# القرآن الكريم
# وترجمة معانيه وتفسيره إلى
# لغة البشتو

---

## المجلد الأول
## من الجزء (١) إلى (١٥)

Translation of the Meanings and
Interpretations of

# THE NOBLE QURAN

in the Pushtu Language

---

Volume 1
Part (1) To (15)

# القرآن الكريم

وترجمة معانيه وتفسيره
إلى لغة البشتو

المجلد الأول

من الجزء
(١) إلى (١٥)

إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا ٱلذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ

# إِنَّهُۥ لَقُرْءَانٌ كَرِيمٌ فِى كِتَٰبٍ مَّكْنُونٍ لَّا يَمَسُّهُۥٓ إِلَّا ٱلْمُطَهَّرُونَ تَنزِيلٌ مِّن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ

تشرف بالأمر بطباعة هذا المصحف الشريف وترجمة معانيه وتفسيره
خادم الحرمين الشريفين الملك فهد بن عبد العزيز آل سعود
ملك المملكة العربية السعودية



# القرآن الكريم

وترجمة معانيه وتفسيره
الى لغة البشتو

المجلد الأول من الجزء (١) إلى (١٥)

---

د
# قرآن کريم
ترجمه او تفسير
په پښتو ژبه کښې

لومړی جلد له (١) تر (١٥) پارې پورې

ددې قرآن حکيم او ددې پښتو ترجمې او تفسير د چاپ
دامر کولو سعادت د حرمينو شريفينو خادم پادشاه
فهد بن عبدالعزيز آل سعود د سعودي عرب
پادشاه ته حاصل شو

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

( كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ إِلَيْكَ مُبَٰرَكٌ لِّيَدَّبَّرُوٓا۟ ءَايَٰتِهِۦ وَلِيَتَذَكَّرَ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ )

الحمد لله رب العٰلمين القائل ( أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلْقُرْءَانَ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُوا۟ فِيهِ ٱخْتِلَٰفًا كَثِيرًا ).

والصلوٰة والسلام على سيدنا محمد القائل (خيركم من تعلم القرءان وعلمه) والذى ثبت عنه عليه الصلوٰة والسلام انه قال(اقرؤوا القرءان فإنه يأتي شفيعا لأصحابه يوم القيامة) وعلى آله وأصحابه ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين .. وبعد :

فإنفاذا لأوامر خادم الحرمين الشريفين وناشر كتاب الله المجيد الملك فهد بن عبد العزيز - حفظه الله - في العناية بكتاب الله الكريم توثيقا وطباعة . والعمل على تيسير نشره وتوزيعه بين المسلمين وتفسير معانيه وترجمتها إلى اللغات المختلفة واعتبار تلك التوجيهات من أسمى الغايات والأهداف المرسومة لمجمع خادم الحرمين الشريفين الملك فهد لطباعة المصحف الشريف بالمدينة المنورة.

وبناء على التعاون القائم بين كل من الأمانة العامة للمجمع بالمدينة المنورة والأمانة العامة لرابطة العالم الإسلامي بمكة المكرمة في كل ما من شانه خدمة كتاب الله الكريم ترجمة وطباعة ونشرا في جميع أنحاء العالم .

وإيمانا من الجميع بضرورة ترجمة معاني كتاب الله تعالى إلى جميع اللغات الفاعلة تحقيقا لمبدإ البلاغ والدعوة بالحكمة والموعظة الحسنة وتحقيقا لقوله تعالى ( وَتَعَاوَنُوا۟ عَلَى ٱلْبِرِّ وَٱلتَّقْوَىٰ ) وخدمة لإخواننا الناطقين بلغة البشتو فإنه يطيب لرابطة العالم الإسلامي أن تقدم للقارئ الكريم هذا المصحف الشريف مع ترجمة معانيه وتفسيره إلى لغة البشتو المسماة اصطلاحا بتفسير "كابل" والتى قام بترجمتها باللغة الأردية فضيلة الشيخ محمود الحسن وتفسير فضيلة الشيخ شبير أحمد عثماني - يرحمهما الله - وقام بتحويلها إلى لغة البشتو هيئة من علماء أفغانستان ، ونظرا لوجود كلمات صعبة وقديمة الاستعمال ، فقد اعتمدت الرابطة الشيخ / سيد عبيد الله شاه - أحد علماء الباكستان الناطقين بهذه اللغة- لتوضيح تلك الكلمات بمايرادفها من الكلمات السهلة والمفهومة لدى عامة متكلمي لغة البشتو في أفغانستان وباكستان .وقد أقرت الترجمة وتمت المراجعة تحت إشراف رابطة العالم الإسلامي .

وإننا إذ نحمد الله تعالى أن وفقنا إلى إنجاز هذا العمل وتقديمه إلى الإخوة المسلمين الناطقين بلغة البشتو لنرجو أن يستلهم منه قراؤه نور الهدى والتقى بما يقوى إيمانهم ويثبت إسلامهم ويصلح أحوالهم في الدنيا والآخرة .

والرابطة إذ تقدم هذا الجهد بالتعاون مع المجمع لتعلم بأن الترجمات مهما بلغت دقتها لايمكن أن تصل إلى المقاصد العظيمة لنص القرآن الكريم المعجز وأن التفسير المذكور إنما هو حصيلة مابلغه علم المترجم في فهم كتاب الله الكريم ويعتريه مايتصف به البشر من نقص ،والكمال المطلق لله وحده .

لذا فيرجى من كل قارئ لهذه الترجمة إسداء النصح وتدوين الملاحظات العلمية الموثقة والمقترحات حولها وإرسالها إلى الأمانة العامة للمجمع أو لرابطة العالم الإسلامي للاستفادة منها في الطبعات القادمة إن شاء الله تعالى .

والله الموفق وهو الهادي إلى سواء السبيل ،،،

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

( كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ إِلَيْكَ مُبَٰرَكٌ لِّيَدَّبَّرُوٓا۟ ءَايَٰتِهِۦ وَلِيَتَذَكَّرَ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ )

الحمد لله رب العٰلمين القائل ( أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلْقُرْءَانَ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُوا۟ فِيهِ ٱخْتِلَٰفًا كَثِيرًا ).

والصلوٰة والسلام على سيدنا محمد القائل (خيركم من تعلم القرءان وعلمه) وعلىٰ آله وصحبه أجمعين .

د حرمينو شريفينو خادم د كتاب الله ناشر او د سعودى عرب بادشاه فهد بن عبد العزيز د قرآن كريم د طباعت او په مختلفو ژبو كښې د دے د ترجمو د چاپ كولو او تقسيمولو احكام جارى كړى دى. او د دے غرض دپاره ئې په مدينه منوره كښې د « مجمع خادم الحرمين الشريفين » په نوم د قرآن مجيد د طباعت دپاره يوه عظيم الشانه چاپ خانه جوړه كړے ده د دے پښتو تفسير د چاپ كار په دغه ستره مطبعه كښې سر ته ورسيد.

رابطه عالم اسلامى په دے خبره د خوشحالى اظهار كوى چه د خادم الحرمين الشريفين د احكاماتو په رڼا كښې د «مجمع» په تعاون سره د پښتو ژبے لوستونكو ته دا ترجمه او تفسير وړاندى كوى چه په پښتنو كښې د «تفسير كابلى» په نوم شهرت لرى او دا تفسير د پاك و هند دؤو سترو عالمانو شيخ الهند مولانا محمود حسن ديوبندى او علامه شبير احمد عثمانى په اردو ژبه كښې ليكلے، او بيا د افغانستان د سترو عالمانو يو تولگى پښتو ژبے ته اړولے دے.

په دے پښتو ترجمه كښې بعضے تكى گران او زاړه وو ، چه موجوده وخت كښې ئے استعمال كم شوے وو، نو په دے غرض رابطه عالم اسلامى مكة المكرمة د پاكستان يو عالم دين او د پښتو ژبے ماهر مولانا سيد عبيد الله شاه ته دا كار وسپاره چه هغه دى په دے تفسير كښې د گرانو تكو سره خوا په خوا په قوسينو كښې د هغے مترادف الفاظ وليكى چه د پاكستان او افغانستان د عامو لوستونكو دپاره آسان شى. د ترجمے او نظرثانى دا تول كار د الله په فضل د «رابطے» د نگرانى لاندى سر ته ورسيد.

«رابطه» د «مجمع» په تعاون دا هديه پښتنو مسلمانانو ته دے احساس سره وړاندى كوى چه ترجمه كه هر څومره په كوشش سره وكړے شى خو بيا هم د قرآن كريم د اصل معجزانه عبارت بدل هيچرى نشى كيدے . دا فقط د مترجم د پوهے مطابق د كتاب الله ترجمانى ده او انسان د نقص نه خالى نه دے . نو په دے وجه مونږ تولو لوستونكو ته خواست كوو چه هغوى د دے ترجمے او تفسير د مزيد ښه كولو دپاره خپل آراء او مستند علمى تجاويز رابطه عالم اسلامى ته راؤليږى چه په راتلونكى چاپ كښې د هغے نه استفاده وكړے شى.

والله الموفق وهوالهادى إلى سواء السبيل

# القرآن الكريم

## وترجمة معانيه وتفسيره إلى لغة البشتو

المجلد الأول من الجزء (١) إلى (١٥)

مجمع خادم الحرمين الشريفين الملك فهد لطباعة المصحف الشريف

دَ

# قُرْآنِ کَرِیم

## ترجمه او تفسیر په پښتو ژبه کښې

ړومبی جلد له (١) تر (١٥) پارے پورے

چاپ خانه د حرمینو شریفینو د خادم
پادشاه فهد د قرآن کریم د طباعت لپاره

اول جزء اول منزل
(سورة «الفاتحة» مكية وهي سبع آيات)
(نزلت بعد (المدثر) رقمها (۱) تسلسلهاحسب النزول (٥)
(د «الفاتحة» سورت مكي دی (۷) آيتونه لري)
(د «المدثر» سورت نه وروسته نازل شوی دی. په تلاوت کښې
(۱) او په نزول کښې (٥) سورت دی او (۱) رکوع لري)

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ○

(شروع کوم) په نامه د الله چه ډير زيات مهربان او رحم لرونکی دی.

**تفسير: «رحمٰن» او «رحيم»** دواړه د مبالغې صيغې دی، مګر په «رحمٰن» کښې له «رحيم» څخه مبالغه زياته ده، په دغه ترجمه کښې د دغو ټولو نکتو لحاظ شوی دی.

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ

ټولې ستاينې (صفتونه) خاص الله لره دی.

**تفسير:** تر ټولو ښې او غوره ستاينې (صفتونه) چه له اوله تر آخره پورې شوی دی، يا کيدونکی دی هغه واړه خاص الله تعالیٰ لره ښايي، ځکه چه الله تعالیٰ د هر نعمت او هر شي پيدا کوونکی او ښيوونکی دی او ښېنه ئې عامه ده که بې واسطې وی او که په واسطه سره وی لکه څوک چه د لمر له رڼا (رڼرا) او تودوالي څخه ګټه (فائده) اخلې نو دغه ګټه (فائده) په حقيقت کښې د لمر فيض دی نه د رڼا (رڼرا) او تودوالي.
خدای سره نسبت لري چيری چه ستاينه (صفت) ده هر څوک چه ستايلې شي هم د رب ستاينه (صفت) ده د ﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ﴾ ترجمه يوازې په دی جملې سره چه هر ډول (طريقه) ستاينه (صفت) الله تعالیٰ لره ده لنډه او نيمګړې ده چه پوهان د دی جملې په تقصير اعتراف لري ﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ﴾ خورا (ډيره) ښه ترجمه هم دغه ده چه په اوله کښې وليکل شوه. او عام فهمه ترجمه ئې دغه ده؛ «ټولې ثناوې له هر چا، په هر څه، په هر وخت، په هر ځای کښې خاص الله تعالیٰ لره دی» ځکه د هر شي تقدير د ده له لوری دی.
**تنبيه :** په فاتحة الکتاب کښې الله تعالیٰ د (۷) شيانو يادونه کړی ده؛
(۱) د نعمت يادونه لکه چه فرمايي؛

## رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝۲

### چه پالونکی د عالمیانو (د خپل لوی حکمت له مخه)

**تفسیر:** د مخلوقاتو مجموعی ته «عالم» وایی، نو له دی کبله (له وجی) د جمعی په شکل نه راوړل کیږی مګر په دی آیت کښی د عالم د هر جنس د ښودلو دپاره د جمعی په شکل راغلی لکه د ملائکو عالم د انسانانو عالم، د پیریانو عالم او نور ترڅو چه دا خبره ښه روښانه شی چه د عالم ټول افراد د الله تعالیٰ مخلوق دی.

(۲) د ښو ښو شیانو د ورکولو او ښنلو تمه او هیله (امید) لکه چی فرمایی؛

## الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝۳

### دیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی

**تفسیر:** یعنی ټولی ستاینی (صفتونه) خاص الله تعالیٰ لره دی چه د ټولو مخلوقاتو پالونکی او روزونکی (تربیت کونکی) دی او دیر زیات مهربان دی چه هر ساکښ (ذی روح) ته د روغ، بدن او رزق ورکوونکی دی، او پوره رحم لرونکی دی چه یوازی مؤمنانو ته د اجر او ثواب، د جنت د نعمتونو او خپلی رضا او دیدار ښونکی دی.

(۳) د رب العزت **(جل شانه واعظم برهانه)** په عظمت او قدرت کښی فکر کول لکه چه فرمایی؛

## مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ۝۴

### څښتن (مالک) (د ټولو امورو) د ورځی د جزا دی

**تفسیر:** د جزا د ورځی (قیامت) د تخصیص اوله وجه دا ده چه په هغه ورځ به داسی لویی او ویروونکی پیښی (حادثی) واقع شی چه د هغو په شان به نه پخوا تیری شوی وی او نه به وروسته راشی بله وجه ئی دا ده چه په هغه ورځ به د الله تعالیٰ د پاک ذات له حقیقی حکومت څخه پرته (علاوه) د بل هیچا کوم ظاهری او مجازی واک (اختیار) او حکومت هم هیڅ نه وی.

﴿لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ﴾ . (۲ رکوع سورت المؤمن).

(٤) په عبادت کښی اخلاص لرل لکه چه فرمایی؛

## ﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ﴾

خاص تاته عبادت کوو

**تفسیر:** د هغه ذات له ذکره وروسته چه د تولو ستاینو (صفتونو) وړ (لائق) دی علم او پوهه په یو معلوم او معین پوری متعلق او خطاب د هغه سره وکړ شو یعنی ای هغه ذاته! چه ستا لوړ او پاک شان دغسی لوی، هسک (اوچت) او پورته دی مونږ یوازی ستا عبادت کوو او خاص له تا څخه مرسته (مدد) غواړو، ښکاره ده چه دغسی خطاب پر اختصاص ډیر ښه دلالت کوی، او له برهانه عیان ته د ترقی خورا ښه (ډیرښه) وسیله ګرځی، او له غیب نه شهود ته د انتقال ډیره ښه ذریعه کیږی نو ګواکی (ګویا که) معلوم عیان او معقول مشهود وګرځید، او خبره له غیبت څخه خطاب ته واوښته چه دغه ته التفات ویل کیږی، ړومبی د کلام شروع په داسی شیانو سره وشوه چه د عارفانو د حال مبادی دی چه هغه د پالونکی خدای (جل جلاله) په نومونو، صفتونو، انعامونو، او د ده په مخلوقاتو، موجوداتو مصنوعاتو، او په ښکاره سلطان قوی برهان، لوی شان او عام احسان کښی ئی غور فکر او تأمل کول دی. بیا وروسته د کلام د هغی برخی یادونه وشوه چه هغه د دوی د حال منتهی ده ترڅو چه متفکرین پند آخستونکی او د بصیرت خاوندان د وصول ژورو برخو ته ورننوځی، او ځانونه د اولوالالباب، او د بصیرت، مشاهدی، پوهی او هوښیاری له خاوندانو څخه وګرځوی، او د خپل زړه په سترګو پاک خدای (جل جلاله) ښکاره وګوری او په ډیر اخلاص او ادب مخامخ ورته ودریږی، او په ډیره عاجزی او زاری ورته داسی عرض وکړی چه یاالله؛ ﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ﴾ الآیة.

(۵) د مرستی (مدد) غوښتنه لکه چی فرمایی؛

## ﴿وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ۝﴾

او خاص له تا څخه مرسته (مدد) غواړو

**تفسیر:** له دی آیت شریف څخه معلومیږی چه بی د الله تعالیٰ له پاک ذات نه له بل چا څخنی حقیقی مرسته (مدد) غوښتل بیخی روا نه دی، مګر که څوک کوم ښه او مقبول بنده محض د الله تعالیٰ د رحمت وسیله او غیر مستقل وګنی، او یوازی په ظاهری او غیر حقیقی ډول (طریقه) سره ورڅخه مرسته (مدد) یعنی که ورته ووائی ماته دعا وکړه نو باک نه لری ځکه چه دغه ډول (طریقه) مرسته (مدد) غوښتل هم په حقیقت کښی د الله تعالیٰ څخه مرسته (مدد) غوښتل دی.

(٦) د هغی سمی او روښانی لاری د ښودلو غوښتنه چه مقصود ته رسوونکی ده لکه چه فرمایی؛

## اِهۡدِنَا الصِّرَاطَ الۡمُسۡتَقِيۡمَ ۙ﴿٦﴾ صِرَاطَ الَّذِيۡنَ اَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ ۙ

وښيه موږ ته لاره سمه لاره د هغو کسانو چه انعام کړی تا پر هغو باندی

**تفسير:** پر هغو کسانو چه انعام شوی دی څلور طايفی دی
(۱) نبيين (۲): صديقين (۳): شهداء (٤): صالحين. د دغه څلورو طايفو تصريح د پاک قرآن په بل ځای کښی شوی ده، ځينو علماؤ ويلی دی چه له ﴿ الۡمَغۡضُوۡبِ عَلَيۡهِمۡ ﴾ څخه «يهود» او له ﴿ الضَّآلِّيۡنَ ﴾ څخه «نصارىٰ» مراد دی چه د دی مطلب د تائيدولو لپاره ډير آيتونه او روايتونه شاهد دی. له ﴿ الصِّرَاطَ الۡمُسۡتَقِيۡمَ ﴾ يعنی له مستقيمی لاری څخه پاتی کسان دوه ډوله (قسمه) دی يو هغه کسان دی چه په ناپوهی سره له سمی لاری څخه محروم او بيرته پاتی دی. بل هغه کسان دی چه دوی سره له پوهی قصداً سرکشی غوره کړی ده، پخوانی او وروستنی ګمراهان له دغو دوه ؤ طايفو څخه وتلی نشی، «نصارىٰ» په اوله او «يهود» په دوهمه طايفه کښی داخل دی.
(۷) له خرابو او ناوړو (غلطو) کارونو څخه د ځان ساتلو غوښتنه او د پاکی او عصمت اميد لکه چه فرمايی

## غَيۡرِ الۡمَغۡضُوۡبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا الضَّآلِّيۡنَ ﴿٧﴾ ع

نه «لاره د هغو بدو کسانو چه» غضب کړی شوی پر هغو باندی او نه «لاره د هغو بدو کسانو چه» ګمراهان دی

**تفسير:** (يعنی موږ ته د هغو کسانو سمه او صافه لاره وښيه چه په هغو باندی انعام شوی دی او د هغو کسانو له کږو وږو لارو څخه مو چه پری غضب شوی او ګمراهان دی چپ (بچ) کړه او د بدانو له متابعت څخه مو وساته).
الله تعالىٰ دغه سورت د خپلو بندګانو له ژبو څخه فرمايلی دی يعنی کله چه تاسی زموږ دربار ته حاضريږی نو له موږ څخه دا رنګه سوال وکړی، نوځکه د دی سورت يو نوم «**تعليم المسئلة** يعنی د غوښتلو ښودنه» هم دی.
د دی سورت په اوله برخه کښی د الله تعالىٰ ثنا او صفت دی، دوهمه برخه ئی د بندګانو د دعا لپاره ده.
«**فائده**»: ﴿ غَيۡرِ الۡمَغۡضُوۡبِ ﴾ **الآية** ــ د ﴿ الَّذِيۡنَ ﴾ بدل ــ يا د هغه صفت دی، نو ځکه ترجمه ئی هم په هماغه تناسب سره شوی ده، په ځينو دهلوی تراجمو کښی دغه ترجمه هسی شوی ده، چه د ترکيب او مقصود نه مخالفه ده.

«سورة «البقرة»، مدنية الاآية «۲۸۱» فنزلت بمنی فی‌حجة الوداع»
«وهی مائتان وست وثمانون آیة واربعون رکوعا»
«نزلت بعد «المطففین» رقمها (۲) تسلسلهاحسب النزول (۸۷)»
«د «البقرة» سورت مدنی دی برته (علاوه) د (۲۸۱) آیة نه چه د حجة الوداع په کال په منیٰ کښی نازل شوی دی»
«دوه سوه شپږاتیا (۲۸۶) آیتونه او څلویښت (٤٠) رکوع لری»
«د «المطففین» له سورت څخه وروسته نازل شوی دی. په تلاوت کښی (۲) او په نزول کښی (۸۷) سورت دی»

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

(شروع کوم) په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

الٓمّٓ ۝١

**تفسیر:** دغو حروفو ته «مقطعات» وایی، د دغو حروفو په اصلی معنی باندی برته (علاوه) له الله تعالیٰ څخه بل هیڅوک نه شی پوهیدی، او د الله تعالیٰ یوه پته خبره او پټ راز دی، څوک وایی دغه حروف د الله تعالیٰ او د ده د رسول صلی الله علیه وسلم په مینځ کښی مخصوص رموز دی چه مونږ ته د ځینو مصالحو او حکمتونو لامله (له وجی) نه دی راښکاره شوی او هغه معناګانی چه د ځینو لویانو له خوا د دغو حروفو په نسبت نقل شوی دی تش یو تمثیل تنبیه او د مقصود آسانتیا ده نه دا چه یوازی همغه د الله تعالیٰ مراد کیدی شی، نو هغو ته شخصی رأی ویل، او بیا ئی غلط ښودل یوازی هغه شخصی رأی ده چه په تحقیق سره د عالمانو د منلو وړ (لائق) نه ده.

ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ ۛ فِيْهِ ۛ

دا کتاب نشته هیڅ شک په ده کښی (چه د الله تعالیٰ له لوری نازل شوی دی)

**تفسیر:** یعنی په دی خبره کښی هیڅ شک او شبهه نشته چه قرآن د الله تعالیٰ کلام دی او ټول مضامین ئی رښتینی او واقعی دی.

**تنبیه:** په کوم کلام کښی چه اشتباه لیدل کیږی هغه به له دوه ؤ لارو څخه وی یا به په هغه کلام کښی کومه غلطی او خرابی وی، یا به د اوریدونکی په پوهه کښی څه فساد او خلل وی. په

اول صورت کښې د ﴿رَيْبَ﴾ محل، دغه کلام دی، او په دوهم صورت کښې د ﴿رَيْبَ﴾ محل په حقیقت کښې د پوهیدونکی پوهه ده دغه کلام «قرآن» خو بالکل حق دی، که څه هم ناپوهانو ته د دوی د ناپوهی لامله (له وجی) شک او شبهه پکښې پیدا کیږی، نو په دی مبارک آیت کښې ئی د ﴿رَيْبَ﴾ د اول صورت نفی وفرمایله نو دا «شبهه» او ﴿رَيْبَ﴾ (چه کافرانو په قرآن کښې ﴿رَيْبَ﴾ کړی او ترینه انکار لری چه دا کلام د الله تعالیٰ کلام نه دی نو بیا د دی نفی معنی څه ده؟) بالکل له مینځه وواته، پاتی شو دوهم صورت چه د هغه نفی له دی نه وروسته په ﴿وَاِنْ كُنْتُمْ فِىْ رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلٰى عَبْدِنَا﴾ الآية ـ کښې راځی.

## هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿۲﴾

(دغه کتاب) لارښوونکی دی لپاره د پرهیزګارانو.

**تفسیر:** له دغه ځایه د عظیم الشان قرآن تر آخره پوری د ﴿اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ﴾ ځواب دی چه د بندګانو له خوا غوښتل شوی ؤ.

یعنی دغه کتاب هغو بندګانو ته لار ښیی چه له الله تعالیٰ څخه ویره لری ځکه هغه څوک چه د الله تعالیٰ څخه ویریږی هغه به هرومرو (خامخا) د ښو او بدو امورو «طاعت او معصیت» غوښتنه او پلټنه (لټون) کوی، او د چا په زړه کښې چه د الله تعالیٰ ویره نه وی نو هغه به له طاعت سره څه علاقه او له معصیت ځنی به څه اندیښنه ولری ؟.

## الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ وَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿۳﴾

هغه کسان چه ایمان (باور) لرونکی دی په غیب باندی او قائموی دوی (سم ادا کوی سره د تولو حقوقو) لمونځ او ځینی له هغو شیانو چه ورکړی مونږ دوی ته صرفوی ئی (د الله تعالیٰ د رضا لپاره).

**تفسیر :** یعنی هغه شیان چه د هغوی له عقولو او حواسو څخه پټ دی لکه وحدانیت رسالت، حشر، نشر، قیامت، حساب، کتاب، ملائک، جنت، دوزخ، او نور دغه واړه د الله تعالیٰ او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم له ارشاد سره سم حق او یقینی ګڼی له دی څخه دا راښکاره شوه چه د دغو غایبو او پټو شیانو منکران د هدایت له فیضه محروم او بی برخی دی.

د صلوٰة له اقامت څخه مطلب دا دی چه هغه تل د خپلو تولو حقوقو او آدابو په مراعات کولو سره په ټاکلو (مقررو) وختونو کښې اداء کړی شی.

د تولو عباداتو اصل دری شیان دی.

(۱) هغه امور چه د زړه سره تعلق او اړه لري.
(۲) هغه امور چه په بدن پوري متعلق او تړلي وي.
(۳) هغه امور چه په مال پوري مربوط وي.
په دې مبارک آيت کښې دا دري واړه اصول په ترتيب سره ياد شوي دي.

---

وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ ۚ وَبِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ۝۴

---

او هغه کسان چه ايمان لري (دوي) په هغه (کتاب) چه نازل کړې شوي دې تاته او (په) هغو (کتابونو) چه نازل کړې شوي دي. له مخه د تا او په آخرت دوي يقين کوي (چه ضرور راتلونکې دې).

---

**تفسير:** په تير آيت کښې د هغو کسانو يادونه وه چه له شرک نه وتلي او مسلمانان شوي دي، لکه د مکې خلق، او په دغه آيت کښې هغه کسان ياد شوي دي چه اهل کتاب ؤ او په اسلام مشرف شوي دي لکه «يهود» او «نصارىٰ»

---

اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْ ۗ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝۵

---

دغه (ستايل شوي) کسان (دي) په هدايت له (جانبه) د رب خپل او دغه (ستايل شوي) کسان دي هم دوي په مراد رسيدلي (يا) او دغه (ستايل شوي) کسان هم دوي په مراد رسيدلي دي.

---

**تفسير:** يعنې د ايماندارانو دغو دواړو ډلو ته چه پاس يادي شوي په دنيا کښې دوي ته هدايت وربه برخه شو او په آخرت کښې خپلو مرادونو ته رسيږي له دې څخه معلوم شو چه هر هغه څوک چه د ايمان له نعمت او له ښو اعمالو څخه محروم او بې برخې دې. د هغه دنيا او آخرت دواړه برباد او ابته (خراب) کيږي اوس د مؤمنانو د دغو دوه ؤ ډلو له يادوني څخه وروسته د کافرانو د حالاتو يادونه کيږي.

---

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَاَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝۶

بیشکه هغه (خاص) کسان چه کافران شوی دی برابر دی په دوی ویرول ستا دوی لره او نه ویرول ستا دوی لره دوی ایمان نه راوړی (یا دا خبره) که وویروی ته هغوی یا که ته نه ویروی هغوی ایمان نه راوړی.

**تفسیر:** له دی کفارو څخه خاص هغه خلق مراد دی چه هغوی ته کفر مقرر شوی دی، او د ایمان له دولت څخه تل بی برخی دی (لکه ابوجهل، ابولهب او نور) که نه، نو ښکاره ده چه دیر کسان له هغو خلقو ځنی چه کافران وو په اسلام مشرف شوی دی، او وروسته له دی نه هم مسلمانیږی.

خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَعَلٰى سَمْعِهِمْ ؕ وَعَلٰۤى اَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ ؗ وَّلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۷

مهر لگولی دی الله پر زړونو د دوی او پر غوږونو د دوی او پر سترگو د دوی. (یوه ځانته) پرده ده او دی دوی لره عذاب دیر لوی.

**تفسیر:** د هغوی پر زړونو باندی مهر لگول شوی دی (یعنی د حق پر خبرو باندی نه پوهیږی) او پر غوږونو باندی ئی مهر لگولی شوی دی (یعنی رښتیا خبرو ته په غور سره غوږونه نه ږدی) او پر سترگو باندی ئی پرده ده (یعنی د حق لاره نه وینی). د کفارو بیان هم ختم شو، اوس په دغو وروستیو دیارلسو آیتونو کښی د منافقانو حالات راځی.

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِيْنَ ۸

او ځینی له خلقو هغه څوک دی چه وایی ایمان راوړی دی مونږ په الله او په ورځ وروستئ (چه قیامت او د جزا وخت دی). حال دا چه نه دی دوی مؤمنان

**تفسیر:** یعنی د زړه له کومی (منځ) ئی ایمان نه دی راوړی چه هغه ته حقیقی ایمان ویلی شی، یواځی په ژبی سره د مسلمانانو د تیر ایستلو دپاره د ایمان اظهار کوی.

يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۚ وَمَا يَخْدَعُوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٩﴾

تګی کوی دوی (په خپل ګمان) له الله سره او له هغو کسانو سره چه ایمان ئی راوړی دی حال دا چه نه کوی تګی دوی مګر له ځانو خپلو سره حال دا چه نه لری شعور دوی (او نه پوهیږی چه ضرر ئی هم دوی ته رسیږی).

**تفسیر:** یعنی د دوی دا تیرایستل نه په الله تعالیٰ باندی چلیږی چه عالم الغیب دی، او نه په مؤمنانو باندی څه اثر اچولی شی، ځکه چه هغوی د خپل رسول صلی الله علیه وسلم په ژبه او د نورو دلایلو او قراینو په وسیله د دوی له فریبکاری او دغابازی څخه خبریږی بلکه د دی فریب وبال او د هغی خرابی په حقیقت کښی هم دوی ته بیرته ورګرځی خو سره له دی دوی د خپل غفلت، ګناه او جهالت له امله (وجی) په غور سره ورته نه ګوری او د هغی په نقصان او زیان نه پوهیږی، که دوی غور او فکر وکړی نو وبه پوهیږی چه له دی فریبکاری څخه مسلمانانو ته هیڅ یو زیان نه رسیږی، او تل د هغی خرابه نتیجه په خپله هم دغو منافقانو ته رسیدونکی ده.
دا د حضرت شاه عبدالقادر صاحب (قدس سره) د پوهی نزاکت دی چه دلته ئی د ﴿وَمَا يَشْعُرُوْنَ﴾ له ښکاره ترجمی (نه لری شعور دوی) څخه سترګی اړولی او په نه پوهیدلو او نه غور کولو سره ئی ترجمه فرمایلی ده
«او دغه منافقان د خپل ځان په ضرر او نقصان ځکه نه پوهیږی چه»

فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ ۙ فَزَادَهُمُ اللّٰهُ مَرَضًا ۚ

په زړونو د دوی کښی مرض (د شک او نفاق) دی نو زیات کړ دوی لره الله مرض

**تفسیر:** د هغوی په زړونو کښی د نفاق او د اسلام له دین څخه د نفرت او له مسلمانانو سره د کینی او عناد مرض لا له پخوا موجود ؤ، اوس د قرآن له نزوله او د اسلام د شوکت له ظهوره او د مسلمانانو د ترقی، نصرت او لوړتیا (وچت والی) له کبله (وجی) د دوی هغه ناروغتیا لا سخته او درنه شوه.

وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۢ بِمَا كَانُوْا يَكْذِبُوْنَ ﴿١٠﴾

او (مقرر) دی دوی ته عذاب ډیر دردناک په سبب د دی چه وو دوی چه دروغ
به ئی ویل (په اظهار د ایمان سره)

**تفسیر:** له دی دروغ ویلو څخه همغه د اسلام دروغ دعوی چه ویل به ئی ﴿ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالْیَوْمِ الْاٰخِرِ ﴾ مراد ده چه پاس تیره شوه یعنی ﴿ عَذَابٌ اَلِیْمٌ ﴾ په حقیقت کښی د دوی د نفاق سزا ده نه د مطلقو دروغ ویلو.

حضرت شاه رحمة الله علیه د دی باریک فرق د ښکاره کولو له امله (وجی) د «یکذبون» ترجمه د دروغ ویلو په ځای په دعوی د دروغو سره کړی ده **فجزاه الله ما ادق نظره.**

وَاِذَا قِیْلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوْا فِی الْاَرْضِ ۙ قَالُوْٓا اِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُوْنَ ﴿۱۱﴾

او کله چه وویلی شی دی منافقانو ته: فساد مکوئ په ځمکه کښی نو وایی
دوی بیشکه هم دا خبره ده چه مونږ هم دغه اصلاح کوونکی یو

**تفسیر:** لنډه دا چه منافقانو به ډول ډول (قسم قسم) فسادونه خپرول (خورول)

(۱) په نفساني خواهشونو کښی غرق او د شرعی احکامو له منلو څخه نفرت کوونکی او سستی کوونکی وو.

(۲) له مسلمانانو او کافرانو (دواړو) سره به ئی تګ او راتګ درلود (لرلو) د خپل قدر او منزلت د لوړتیا (ترقی) لپاره به ئی د مسلمانانو خبری کافرانو او د کافرانو به ئی مسلمانانو ته رسولی او یو بل ته به ئی چغلی او شیطانی کوله.

(۳) له کافرانو سره ئی په ډیر دار او مدار سره ګډون، ملاقات او معاملی کولی او له دین څخه په مخالفو کارونو کښی به ئی په کافرانو هیڅ غرض نه کاوه او که به کافرانو د دین پر مسئلو کوم اعتراض یا شبهه کوله هغه قصی به دوی مسلمانانو ته ښکاره او مخامخ کولی څو چه ضعیف الاعتقاده او کم فهمه مسلمانان په شرعی احکامو کښی شکمن او حیران کړی اوکه چا به دوی له فسادونو څخه منع کول نو ویل به ئی مونږ اصلاح کوونکی یو او غواړو چه د پخوانی زمانی په شان د خلقو په مینځ کښی یووالی او دوستی پیدا شی او هغه مخالفت چه د نوی دین له امله (وجی) اوس مینځ ته راغلی دی بالکل ورک شی لکه چه په هر وخت او هره زمانه کښی ماده پرست او نفاق روزونکی (تربیت کونکی) خلق هم داسی خبری او اتری کوی.

اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُوْنَ وَلٰكِنْ لَّا یَشْعُرُوْنَ ﴿۱۲﴾

خبردار اوسی بیشکه دوی دی هم دوی فساد کوونکی مګر نه لری شعور دوی (پخپل فساد)

**تفسیر:** اصلاح په حقیقت کښې دا ده چه حق دین په نورو تولو ادیانو غالب شی او له تولو دنیوی منافعو او اغراضو څخه د شرعی احکامو زیات مراعات وشی او د دین په لاره کښې د هیچا د مخالفت یا موافقی پروا او لحاظ ونه کړی شی.

(د «شهاب» په شانی وله شیطان تل ▪ د غلیم په سترګو خاوره پاشه تل)

هغه چاری چه منافقان ئی د مصلحت او صلح په بهانه او پلمه (خیال) سره کوی هغه تولی په حقیقت کښې فساد او نفاق دی مګر دوی نه پری پوهیږی او شعور نه لری.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُوا كَمَا آمَنَ النَّاسُ قَالُوا أَنُؤْمِنُ كَمَا آمَنَ السُّفَهَاءُ ط

او کله چه وویلی شي دوی ته چه ایمان راوړی لکه چه ایمان راوړی دی نورو خلقو نو وایی دوی آیا ایمان راوړو مونږ لکه چه ایمان راوړی دی ناپوهانو؟

**تفسیر:** دا خبری به ئی په خپلو زړونو کښې راګرځولی، یا به ئی یو له بل سره کولی یا به ئی له هغو ضعیفو مسلمانانو سره یادولی چه په کومه وجه له دوی سره په پتو خبرو کښې شریک وو، دا کسان چه د منافقانو په نظر «**سفهاء**» ورځی په حقیقت کښې داسی رښتینی مسلمانان دی چه د الله تعالیٰ په احکامو باندی خپل ځانونه جاروی (قربانوی) او د خلقو له مخالفت څخه هیڅ اندیښنه او پروا نه کوی او د زمانی د انقلاب له ضرره او د بدو پیښو له خرابو نتیجو څخه نه ویریږی او په عکس سره ئی منافقان وو چه هغوی به له مسلمانانو او کافرانو سره تل ظاهرداری کوله او خپلی شپی او ورځی به ئی په غولولو او تیرایستلو سره تیرولی او د نفسانی اغراضو له امله (وجی) به ئی د آخرت هیڅ فکر او اندیښنه نه کوله، دنیوی مصالحو ته کتلو او دورخی چلولو په دوی باندی دومره تاثیر او غلبه کړی وه. چه ایمان او د شریعت احکامو ته غاړه ایښودل ورته یو زیاتی کار ښکاره کیده او احتیاج یی نه ورته حس (احساس) کاوه کله به چه مجبور شول نو یوازی په خوله به یی د مسلمانی دعوی کوله او د ځینو ضروری احکامو په ادا کولو به یی اکتفا کوله.

أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَاءُ وَلَٰكِن لَّا يَعْلَمُونَ ﴿١٣﴾

خبردار اوسئ بیشکه دوی دی هم دوی ناپوهان نه پوهیږی دوی (په ناپوهی - خپله)

**تفسیر:** په حقیقت کښی هم دا منافقان ناپوهان دی چه د دنیوی بی ثباته او فنا کیدونکی اغراضو او ګټو (فائدو) له امله (وجی) یی آخرت تر شاکړی او ورڅخه بی پروا شوی دی د فانی شی غوره کول او د باقی شی پریښودل څومره حماقت دی؟ له هغه مخلوق څخه ویریدل چه له هغه څخه په هر ډول (طریقه) سری ځان ساتلی شی، او له هغه ﴿ عَلَّامُ الْغُيُوبِ ﴾ څخه نه ویریدل چه هغه د ټول جهان څښتن (خاوند). په ښکاره او پټو شیانو عالم او په هیڅ چل او ول سره د د ه په مقابل کښی له حقیقت څخه کوم مخالف کار وړاندی نه شی تلی په څه اندازه جهالت دی؟ دا به څرنګه عمومی اصلاح وی چه په هغی کښی له ﴿ اَحْكَمُ الْحٰكِمِيْنَ ﴾ او د هغه له مقبولو بندګانو سره مخالفت کیږی؟ خو منافقان تر دی درجی پوری ناپوهان دی چه په دی ښکاره حقیقت هم نه پوهیږی.

وَاِذَا لَقُوا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قَالُوْٓا اٰمَنَّا ۚۖ وَاِذَا خَلَوْا اِلٰى شَيٰطِيْنِهِمْ ۙ قَالُوْٓا اِنَّا مَعَكُمْ ۙ اِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۱۴﴾

او کله چه ملاقات وکړی (منافقان) له هغو کسانو سره چه ایمان ئی راوړی دی نو وایی دوی ایمان مو راوړی دی او کله چه یوازی شی له شیطانانو (مشرانو) خپلو سره نو وایی دوی بیشکه مونږ له تاسو سره یو. بیشکه هم دا خبره ده چه مونږ مسخری کوونکی یو (په مؤمنانو پوری).

**تفسیر:** له شیاطینو (شریرانو) څخه یا هغه کفار مراد دی چه تولو خلقو ته به ئی خپل کفر ښکاراوه یا هغه منافقین مراد دی چه د منافقانو غټان او رئیسان ګڼل کیدل، یعنی منافقانو به خپلو مشرانو ته ویل چه په کفر او نورو دینی معتقداتو کښی مؤنږ بیخی له تاسو سره یو او له تاسی څخه هیڅکله نه شو جلا (جدا) کیدی او زمونږ دغه ظاهری موافقت چه له مسلمانانو سره ئی کوو داسی ونه ګڼئ چه ګوندی مونږ په رښتیا له هغو سره موافق یو، مونږ خو پر دوی ملندی (خندا) وهو او مسخری پری کوو او د هغو ناپوهی نورو ته ورښکاره کوو سره له دی چه زمونږ ځینی افعال زمونږ له اقوالو څخه مخالف او جلا (جدا) دی خو دا ناپوهان پری نه پوهیږی او یواځی زمونږ پر خبرو باندی غولیږی او زمونږ د خولی په تشو ویناؤ سره مونږ مسلمانان ګڼی، مال او اولاد ته مو لاس نه راغځوی، د غنیمت په مال کښی مو شریکوی، د خپلو اولادو نکاح راتړی او هم د هغوی په پټو خبرو ځانونه خبروو، کله چه د کار خبری اتری آورو نو په منده ئی

تاسو ته دررسوو، حال دا چه دوی زمونږ په دی فریب کاری او چالاکی هیڅ نه پوهیږی.

اَللّٰهُ يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ وَيَمُدُّهُمْ فِىْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿١٥﴾

الله جزا ورکوی دوی ته د مسخرو د دوی او مهلت (ترقی) ورکوی دوی ته په سرکشی د دوی کښی حال دا چه دوی حیران دی (په خپل کارکښی)

**تفسیر:** خرنګه چه الله تعالیٰ مؤمنانو ته فرمایلی دی چه له منافقانو سره هم د مسلمانانو په شان معامله وکړئ! او د هغوی له مال او ځان سره څه غرض ونکرئ! نو ځکه منافقانو د خپلی ناپوهی له امله (وجی) داسی ګمان وکړ چه د ایمان له راوړلو څخه هغه فائدی چه مسلمانانو ته وررسیږی همغه ګردی (تولی) مونږ ته هم د خولی په تشو خبرو رارسیږی او د اسلام په ظاهری اظهار سره بیخی داده او هوسا (مطمئن) شوی یو حال دا چه د دا کار په پای (آخر) کښی منافقین په یوه سخته بلا اخته کوی او د هغوی انجام ور خرابوی نو اوس انصاف وکړئ چه په حقیقت کښی دا تمسخر پر مسلمانانو دی که په منافقانو؟ یا د دی تمسخر مطلب دا دی چه الله تعالیٰ د تمسخر جزا هرومرو (خامخا) دوی ته ورکوی. او د الله تعالیٰ له خوا هغوی ته مهلت (ترقی) او تال ورکړی شوی دی، چه په خپلو بغاوتونو او سرکشیو کښی ښه ترقی وکړی او داسی وغولیږی، چه د خاتمی او انجام په فکر کښی هیڅ ونه لویږی او خوښ اوسی چه مونږ پر مسلمانانو توکی او مسخری کوو، حال دا چه معامله بیخی بالعکس ده.

**تنبیه:** په دی آیت کښی ﴿فِىْ طُغْيَانِهِمْ﴾ د ﴿وَيَمُدُّهُمْ﴾ له فعل سره متعلق دی، مګر په ځینو نویو دیلوی ترجمو کښی له ﴿يَعْمَهُوْنَ﴾ سره تړلی شوی دی چه له هغه څخه معنی خرابه او د معتزله ؤ له مسلک سره موافقه او د سنیانو له اصولو او د عربو له استعماله بیخی مخالفه او غلطه ده چه پوهان پری ښه پوهیږی.

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ بِالْهُدٰى فَمَا رَبِحَتْ تِّجَارَتُهُمْ وَمَا كَانُوْا مُهْتَدِيْنَ ﴿١٦﴾

دا هغه کسان دی چه پیرودلی اخستلی غوره کړی ئی ده ګمراهی په هدایت سره نو هیڅ ګټه (فائده) ونه کړه سوداګری د دوی (بلکه زیان ئی وکړ) او نه وو دوی لارموندونکی(حق ته)

**تفسیر:** له تجارت څخه مراد همغه د هدایت په ځای د ګمراهی او ضلالت غوره کول دی چه

اوس ئې ذکر وشو، يعنې منافقانو په ښکاره ډول (طريقه) ايمان ومانه او په زړه کښې ئې کفر غوره کړ چه د هغه له امله (وجې) په آخرت کښې خوار او په دنيا کښې داسې بې اعتباره شول چه حق تعالىٰ په خپل کلام کښې د هغو له احوالو څخه تولو ته خبر ورکړ، که دوی په ايمان مشرف شوی وی نو په دواړو دارينو کښې به لوړ (وچت) شوی وو خو اوس دوی د خپل دغه تجارت څخه هيڅ يوه گټه (فائده) وانه خيسته، د دارينو په نقصان کښې اخته شول او په دی هيڅ ونه پوهيدل، چه د ژبې تش ايمان ئې کافي او نافع وگڼه نو په دې خرابی او رسوايی کښې گرفتار شول، وروسته د دی حال په مناسبت دوه مثالونه بيان فرمايي

مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ الَّذِي اسْتَوْقَدَ نَارًا ۚ فَلَمَّا أَضَاءَتْ مَا حَوْلَهُ
ذَهَبَ اللَّهُ بِنُورِهِمْ وَتَرَكَهُمْ فِي ظُلُمَاتٍ لَا يُبْصِرُونَ ﴿١٧﴾

مثال د منافقانو (په نفاق کښې) په شان د مثال د هغه چا دی چه بل کړی ئې وی اور (په تپو (تورو) تيارو کښې) نو کله چه روښانه کړی دغه (اور) هغه ځايونه چه چاپير د هغه دی نو مره کړی الله د رڼا (رڼرا) (اور) د دوی او پريږدی دوی په تيارو کښې په دی حال کښې چه هيڅ نه وينی.

**تفسير:** د منافقانو حال داسې دی. لکه چه څوک په يوه تپه (توره) تياره شپه کښې د لارې موندلو او له ضررناکو شيانو څخه د ځان په امن کولو له امله (وجې)، اور بل کړی او په لوی بيابان کښې يوه نری لاره ځانته پيدا کړی، کله چه په رڼا (رڼرا) کښې لار ورښکاره شی، نو الله تعالىٰ هغه رڼا (رڼرا) تری مړه کړی او هغه په همغه توره تياره شپه او داگ ميدان کښې وچ کلک ولاړ وی او هيڅ شی الله نه ورښکاروی، هم داسې منافقانو هم د مسلمانانو له ويرې د شهادت د کلمی له رڼا (رڼرا) ځنې غوښته چه کار واخلی، خو سم د لاسه ئې لږ څه فايده (لکه د ځان او مال ساتنه) تری واخيسته چه د شهادت د کلمې رڼا (رڼرا) او نور منافع گرد ورک شول، نو وروسته له مرکيدلو څخه په دردناک عذاب اخته شول.

صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لَا يَرْجِعُونَ ﴿١٨﴾

(دوی) کاڼه دی گونگيان دی ړانده دی نو بيرته نه راگرځی دوی (له گمراهی نه)

**تفسير:** يعنې کاڼه دی چه رښتيا او حقه خبره نه شي اوريدی، گونگيان دی د حق له اقراره او

رښتیا ویلو، ړانده دی د حق له لیدلو او د خپلې ګټې (فائدې) او تاوان له کـتلو نه چه څوک کوڼ هم وی ګونګی هم وی، نو هغه به په څه ډول (طریقه) په لار راشي؟ هو! که یواځې ړوند وی، نو یا به ئې چاته غږ کاوه یا به ئې د کوم سړی خبره اوریده، پس له دوی څخنی هیڅ هیله او توقع نه کیږی چه له ګمراهی او بی لارتوب څخنی مخ واړوی او په سمه لاره راشي.

اَوۡ كَصَيِّبٍ مِّنَ السَّمَآءِ فِيهِ ظُلُمٰتٌ وَّرَعۡدٌ وَّبَرۡقٌ ۚ يَجۡعَلُوۡنَ اَصَابِعَهُمۡ فِيۡٓ اٰذَانِهِمۡ مِّنَ الصَّوَاعِقِ حَذَرَ الۡمَوۡتِ ؕ وَاللّٰهُ مُحِيۡطٌۢ بِالۡكٰفِرِيۡنَ ﴿١٩﴾

یا (مثال د دوی) په شان د صاحبانو د زورور غټ څاڅکی باران دی (چه اوری) له طرفه د آسمانه چه وی په دی کښې تیاری او تندر او بریښنا نو ننه باسی دوی ګوتی خپلې په غوږو خپلو کښې له امله (وجې) د سخت آواز د تندرونو له ویری د مرګه. او الله احاطه کوونکی دی په کافرانو (په علم او قدرت خپل)

**تفسیر:** دوهم مثال د دغو منافقانو په شان د هغو کسانو دی. چه پر دوی له آسمانه په ډیر شدت سره باران اوری او څو ډوله (قسمه) تیاری هم په هغه کښې وی.

مثلاً اوریدنه، لړ په لړ ډیری غلیظې او کثیفې وریځې هم وی او د باران څاڅکی هم په ډیر شدت او کثرت او هجوم سره اوری او شپه هم زښته توره تیاره وی او په دی سخته توره تیاره کښې یو ناڅاپه بریښنا او برق هم په ډیر شدت او سختی سره په دربی او ګرنګهار شی او سخته تکه او تندر او تنهار (چړق) ولویږی او داسې یوه زیاته ویره او خوف پیدا شی چه ټول خلق د مرګ له خوفه پخپلو غوږو کښې خپلې ګوتی ومندی او د هغه غږ له ویری د ډیرو خلقو سا وخیژی، هم داسې منافقان هم له یو لوری د خپلو دنیوی اغراضو او مصالحو له امله (وجې) په یوه عجیبه پریشانی، ویره او کشمکش کښې اخته دی او پخپلو چټی (بیکاره) تدبیرونو سره د خپلو ځانونو ژغورل (ساتل) غواړی مګر د الله تعالیٰ قدرت له هر لوری کافران چار چاپیر نیولی او احاطه کړی ئې دی او د هغه له نیولو او له عذابه په هیڅ ډول (طریقه) نشی خلاصیدی.

يَكَادُ الۡبَرۡقُ يَخۡطَفُ اَبۡصَارَهُمۡ ؕ كُلَّمَآ اَضَآءَ لَهُمۡ مَّشَوۡا فِيۡهِ ۙ وَاِذَآ اَظۡلَمَ عَلَيۡهِمۡ

قَامُوْا ۭ وَلَوْ شَاۗءَ اللّٰهُ لَذَهَبَ بِسَمْعِهِمْ وَاَبْصَارِهِمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۲۰﴾

نژدی ده چه برېښنا په چابکی سره یوسی (نور) د سترګو د دوی کله چه رڼا (رڼرا) کړی (برېښنا) دوی ته لاره نو روان شی دوی پکښی او کله چه تیاره کړی په دوی نو ودرېږی (ترهور) او که اراده کړی وی الله (د دوی د کڼوالی او ړوندوالی) نو خامخا زائل کړی به ئی ؤ (ظاهری قوت) د اوریدلو د دوی او (ظاهری قوت) د لیدلو د دوی بیشکه الله پر هر شی (چه اراده وفرمایی) ښه قادر دی (چه ځینی ئی کڼول او ړندول دی)

**تفسیر:** حاصل ئی دا چه منافقان پخپل ضلالت او ظلماتی خیالاتو کښی مبتلا دی، خو کله چه د اسلام د نور غلبی او د قوت ناکو معجزو ظهور ته ګوری او شرعی تهدید او تاکید آوری نو لږ څه متنبه او په ښکاره ډول (طریقه) د «**صراط مستقیم**» په لوری متوجه کیږی او هر کله چه څه دنیوی اذیت او مشقت په نظر ورشی نو په خپل کفر باندی تینګیږی، لکه چه د باران په شدت او په تپه (توره) تیاره کښی د برېښنا له برېښیدلو سره په تللو باندی شروع کوی او بیا بیرته وچ کلک درېږی، مګر څرنګه چه الله تعالیٰ په هر شی باندی پوه او علیم دی او هیڅ شی د هغه له قدرت څخه د باندی نه دی نو دوی ته له داسی هیلو (بهانو) او تدبیرونو څخنی هیڅ یوه ګټه (فائده) نه ور رسیږی.

**(فائده):** د دی سورت له شروع څخه تر دی ځایه پوری ئی د درېو ډلو ذکر وفرمایه اول د مؤمنانو دوهم د کافرانو چه د هغوی پر زړونو باندی داسی مهر لګول شوی دی چه هیڅکله به ایمان رانه وړی دریم د منافقانو چه په ظاهره لکه مسلمانان ښکاری مګر د هغوی زړونه په هیڅ یو لوری نه دی.

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۲۱﴾
الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ فِرَاشًا وَّالسَّمَاۗءَ بِنَاۗءً ۠ وَّاَنْزَلَ مِنَ السَّمَاۗءِ مَاۗءً فَاَخْرَجَ بِهٖ مِنَ
الثَّمَرٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۚ فَلَا تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا وَّاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۲﴾

ای خلقو! عبادت وکړئ د رب خپل هغه (رب چه) پیدا کړی ئی ئی تاسی او (پیدا کړی ئی دی) هغه کسان چه وو پخوا له تاسی څخه دپاره د دی چه تاسی ځان وساتی (له عذابه د الله) هغه (رب) چه ګرځولی ئی ده تاسو ته ځمکه فرش او (ګرځولی ئی دی) آسمان چت او نازلی کړی ئی دی له (طرفه) د آسمانه اوبه پس راویی ایستی په دی (اوبو) سره له هر ډول (قسم) میوو څخه روزی تاسی ته نو مه ګرځوی له الله تعالیٰ سره شریکان حال دا چه تاسی پوهیږی (چه الله شریک نه لری).

**تفسیر:** اوس خپلو بندګانو ته اعم له دی چه مؤمنان وی یا کافران یا منافقان خطاب فرمایی او د حضرت باری په توحید ئی پوهوی چه ایمان د اصولو اصل دی، خلاصه دا ده چه الله تعالیٰ تاسی او نور تول هغه خلق پیدا کړی دی چه له تاسی څخه پخوا وو او ستاسی تول ضروریات او ګردی (تولی) منافع ئی پیدا کړی دی نو له داسی الله تعالیٰ ځنی مخ اړول او نور هسی شیان خپل معبودان ګرځول چه تاسو ته نه نفع رسولی شی او نه مو له ضرره ژغورلی (ساتلی) شی لکه بتان او نور څومره ناپوهی او جهالت دی؟ حال دا چه تاسی په دی خبری هم ښه پوهیږی چه هغه لوی ذات «**وحده لاشریک له**» یو، او بی ملګری دی.

وَإِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِ

او که چیری ئی تاسی په شک کښی له هغه قرآنه چه تونه تونه نازل کړی دی مونږ په بنده خپل (محمد باندی) نو راوړئ تاسی یو سورت په شان د ده!

**تفسیر:** دا خبره پخوا تیره شوی ده چه د یوه کلام په نسبت شبهه یا له دی جهته کیدی شی چه څه شک خلل او ریب په کښی وی، نو د هغه دفعه ئی په ﴿ ذَٰلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ ﴾ سره وفرمایله، یا ئی دا صورت کیدی شی چه د چا په زړه کښی د پوهی له لږوالی یا د عناد د زیاتوالی له امله (وجی) څه شک او شبهه پیدا کیږی، نو څرنګه چه دا صورت ممکن بلکه موجود ؤ نو د دی د لری کولو عمده او آسان صورت ئی بیان وفرمایه چه که تاسی د دی کلام په نسبت داسی خیال لرئ چه د بشر کلام دی نو تاسی هم د دی پاک قرآن د یوه سورت د دری آیتونو په اندازه هم داسی فصیح او بلیغ یو سورت جوړ او ورسره ئی مقابل کړئ! کله چه تاسی سره له ډیر فصاحت او بلاغت، د پاک قرآن د یوه وړوکی صورت له مقابلی څخه عاجز یئ نو باور وکړئ چه دا د الله تعالیٰ کلام دی او د هیڅ کوم بنده خبره نه ده په دی آیت کښی د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نبوت لا ښه څرګند او مدلل شو.

وَادْعُوْا شُهَدَآءَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۲۳﴾

او را وبولئ (ای مشرکانو!) مددګاران خپل بې له الله څخه که یئ تاسی رښتیا ویونکی (په دی دعوی کښی چه دا د انسان کلام دی).

**تفسیر:** یعنی که تاسی په دی دعوی کښی رښتینی یئ چه دا د بنده خبره ده نو هومره پوهان، عالمان، شاعران، فصحاء او بلغاء چه موجود دی پرته (علاوه) له الله تعالیٰ له تولو څخنی مدد او کومک (امداد) وغواړئ! او معاونت تری واخلئ! او په دی سره ئی ولمسوی چه تول سره کینی او یو لنډ سورت د قرآن د څو آیتونو په شان جوړ کړئ! یا ئی دا مطلب چه له الله تعالیٰ نه په غیر ستاسی هومره معبودان چه دی له تولو څخنی په ډیره تضرع او زاری او په دعاګانو سره غوښتنه وکړئ! چه په دی مشکل کښی له تاسو سره مدد وکړی او څه آسانتیا درورسوی!

فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا وَلَنْ تَفْعَلُوْا فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْ وَقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ ۖ اُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۴﴾

پس که ونه کړی شو تاسو (دا کار) او له سره به یـی ونه کړی شئ پس وساتئ تاسی (ځانونه) له هغه اوره چه خس (خشاک) د هغه بنیادمان او تیږی (ګتی) دی، چه تیار کړی شوی دی (دا اور) لپاره د کافرانو.

**تفسیر:** که بیا مو هم ونشو کړی چه داسی یو سورت جوړ کړئ او دا خبره یقینی ده چه له سره ئی نشئ جوړولی نو وویریږئ له هغه اور څخه چه له ګردو (تولو) اورو څخنی زیات تیز او سوځوونکی دی او نوم ئی دوزخ او خس (خشاک) ئی کافران او هغه تیږی (ګتی) دی چه تاسو ئی په عبادت کښی مشغول ئی. او دا اور خاص د هغو کافرانو لپاره تیار کړی شوی دی چه عظیم الشان قرآن نه منی او په حضرت محمد صلی الله علیه وسلم باندی ایمان نه راوړی او دروغجن ئی بولی د خلاصی او نجات هم دا یو صورت شته چه تاسی د حضرت باری جل جلاله په پاک کلام ایمان راوړئ.

وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۖ كُلَّمَا

رُزِقُوا مِنْهَا مِنْ ثَمَرَةٍ رِّزْقًا ۙ قَالُوا هٰذَا الَّذِيْ رُزِقْنَا مِنْ قَبْلُ وَاُتُوْا بِهٖ مُتَشَابِهًا ۭ

او زیری ورکړه (ای محمده) هغو کسانو ته چه ایمان ئی راوړی دی (په تولو مؤمن به شیانو) او کړی ئی دی ښه (عملونه) په دی چه بیشکه دوی ته جنتونه دی چه بهیږی لاندی (تر مانیو او ونو) د هغو ویالی هرکله چه روزی ورکړه شی دغو (جنتیانو) ته له جنتو څخه ثه میوه لپاره د خوړلو نو وایی دا (جنتیان) دا همغسی میوه ده چه راکړی شوی وه مونږ ته پخوا له دی نه او رابه وړه شی دوی ته میوه هم رنګه (او په خوند کښی سره بیله).

**تفسیر:** د جنت میوی به د دنیا له میوو سره مشابه وی چه په شکل او صورت کښی به عیناً بیخی همغسی ښکاری مګر په خوند، مزه، رائحه، خوږوالی، لطافت او نزاکت کښی به ډیر زیات فرق سره لری او د دی دواړو په مینځ کښی به د ځمکی او آسمان توپیر (فرق) وی نو کله چه جنتیان کومه یوه میوه ووینی وایی به چه دا همغه ډوله (قسمه) میوه ده چه پخوا له دی نه مو خوړلی وه څه مهال (وخت) ئی چه وڅکی او ویی خوری نو ډیر خوند او لذت به تری مومی او داسی به وایی چه بیشکه د دی په شان می نه په دنیا او نه په جنت کښی پخوا تر دی څه میوه خوړلی ده.

وَلَهُمْ فِيْهَآ اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۙ وَّهُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۲۵﴾

او وی به دوی ته په دغو (جنتو) کښی ښځی ښی پاکی ستره او دوی به وی په دغو (جنتو) کښی همیشه.

**تفسیر:** د جنت ښځی به له ظاهری او باطنی نجاساتو (او رذیله ؤ اخلاقو) ځنی تولی پاکی، صافی وی.

**(فائده):** تر دی ځایه پوری ئی د دری شیانو ذکر وفرمایه چه په هغو پوهیدل ضروری وو!

اول: «مبدأ» یعنی چه مونږ له کومه راغلی یو؟ او تر دی پخوا څه شی وو؟

دوهم: «معیشت» چه څه خورو او چیری اوسو؟.

دریم: «معاد» چه زمونږ پای او انجام به څه کیږی؟.

اِنَّ اللّٰهَ لَا يَسْتَحْيٖٓ اَنْ يَّضْرِبَ مَثَلًا مَّا بَعُوْضَةً فَمَا فَوْقَهَا ۭ

بیشکه الله نه پریږدی (دا خبره) چه بیان کړی یو مثال (له مثالو څخه) په

## میاشي سره یا چه پورته وی تری

**تفسیر:** په دی آیت کښی د هغی معارضی ځواب ورکړی شوی دی چه د کفارو له لوری د ړومبنی آیت په مقابل کښی شوی ده، خلاصه ئی دا ده کله چه د یو وړوکی سورت جوړول هم د دی پاک کلام په شان د دوی له لاسه ونه شو او تول سره تری عاجزان شول نو کفارو وویل چه «مونږ په بل دلیل سره د دی خبری شهادت وړاندی کوو چه دا د الله کلام نه بلکه د بنده وینا ده»، او هغه دا دی چه یو لوی عظیم الشان سړی تل پخپلو خبرو او اترو کښی د ذلیلو او حقیرو شیانو له یادولو څنی ځان ساتی او له سره ژبه نه پری خوځوی نو حق تعالیٰ چه له تولو لویانو څنی اعلیٰ، اعظم او اکبر دی څرنګه په خپل پاک کلام کښی د میاشي یا له هغه څنی د کومی لویی خوځندی (حشرات الارض) لکه مچ او غنی (جولاګی) مثال بیانوی ځکه چه له «مثال» نه د «ممثل له» توضیح او تفصیل مطلوب وی او په هغه کښی د حقارت او عظمت څه خبره او مباحثه نه وی او دا مطلوب په هلته حاصلیږی چه د «مثال» او د «ممثل له» په مینځ کښی پوره مطابقت وی که «ممثل له» حقیر وی ښائی چه د هغه «مثال» هم حقیر وی که نه هغه «تمثیل» بیکاره ګڼانه کیږی. هو! که په تمثیل کښی دا خبره هم ضروری وی چه د مثال او مثال ورکوونکی په منځ کښی پوره موافقت وی نو د دی ناپوهانو دغه اعتراض به لږ څه د اوریدلو وړ (لائق) ؤ، مګر د دی خبری ویونکی به هیڅ احمق او ناپوه هم نه وی او په توریت، انجیل او د حکماؤ او سلاطینو په کلام کښی داسی ډیر مثالونه شته، د دی خبری اظهار هسی مخالفت او د کفارو د نادانی او ناپوهی او عناد نتیجه ده او بس، د ﴿فَمَا فَوْقَهَا﴾ معنی داسی هم کیدی شی چه له میاشي څنی په حقارت او صغارت کښی زیات وی لکه چه په ځینو احادیثو کښی د دنیا تمثال د میاشي د وزرو سره کړی شوی دی.

---

فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ الْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ ۖ وَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا فَيَقُولُونَ مَاذَا أَرَادَ اللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلًا ۘ يُضِلُّ بِهِ كَثِيرًا وَيَهْدِي بِهِ كَثِيرًا ۚ

---

پس هر څه هغه کسان چه مؤمنان دی پس پوهیږی (په یقین سره) چه بیشکه دا مثال حق دی له ربه د دوی څخه او هر څه هغه کسان چه کافران شوی دی نو وایی (له ډیری ناپوهی او عناد نه) چه د څه شیز اراده کړی ده الله په دی مثال سره (داسی اراده کړی ده الله چه) ګمراه کوی په دی مثال سره ډیر خلق او سمه لاره ښیی (د حق) په دی سره ډیرو خلقو ته

**تفسیر:** یعنی مؤمنان داسی مثالونه حق او مفید گڼی او کافران د حقارت په ډول (طریقه) وایی چه له داسی حقیرو او سپکو مثالو څخه الله تعالیٰ څه مطلب او اراده لری؟ ځواب ورکړی شوی دی چه دغه کلام له سره تر پایه پوری هدایت دی خو د ده نه اوریدلو څخه ډیر خلق د گمراهی په کنده کښی لویږی او ډیر خلق د هغه په مرسته (مدد) د هدایت په سمه لاره درومی، یعنی له دی څخه د حق د طرفدارانو او د باطل د هوا خواهانو پوره تمیز بیلوالی او جلا والی (جداوالی) مقصود دی چه هغه خورا (ډیر) مفید او ضروری شی دی.

وَمَا يُضِلُّ بِهٖٓ اِلَّا الْفٰسِقِيْنَ ﴿۲۶﴾ الَّذِيْنَ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَ اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مِيْثَاقِهٖ ۪ وَيَقْطَعُوْنَ مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ اَنْ يُّوْصَلَ وَيُفْسِدُوْنَ فِى الْاَرْضِ ۭ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۲۷﴾

او نه گمراه کوی (الله) په دی مثال سره مگر فاسقان هغوی چه ماتوی دوی عهد د الله وروسته د محکموالی د هغه عهد او پری کوی هغه چه حکم کړی دی الله په هغه سره چه پیوند دی کړی شی او فساد کوی دوی په ځمکه کښی او دغه کسان هم دوی دی زیان کاران (په دنیا او عقبیٰ کښی).

**تفسیر:** د ﴿ مَآ اَمَرَ اللّٰهُ ﴾ قطع لکه قطع الرحم، له انبیاؤ، علماؤ، واعظانو، مؤمنانو لمونځونو او نورو خیریه ؤ امورو نه مخ اړول چه د الله تعالیٰ د مرضی په خلاف دی. له فساد نه مراد دا دی، چه خلق به ئی له ایمان څخنی زړه توری کول او د هغه نفرت او کرکه به ئی د هغوی په زړونو کښی وراچوله او د اسلام مخالفان به ئی په دی باندی تیزول چه له مسلمانانو سره مقاتله وکړی او د مؤمنانو مقاتلی ته ملا وتړی او د لویو اصحابو او د امت د صلحاؤ عیوب ولتوی یا ئی پری وتړی او بیا ئی مشهور کړی چه د حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم او د محمدی دین بی وقعتی او بی احترامی د خلقو په زړونو کښی کینی او راز راز (قسم قسم) رسوم او بدعتونه به ئی خپرول (خوړول) او د اسلام په مخالفت کښی به ئی زیار (زور) لگاوه.
مطلب دا دی چه د دی نامناسبو حرکاتو له امله (وجی) خپلو ځانونو ته زیان رسوی چه له هغو څخنی نه د اسلام توهین او نه د امت د صلحاؤ څه تحقیر کیدای شی.

كَيْفَ تَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ وَكُنْتُمْ اَمْوَاتًا فَاَحْيَاكُمْ ۚ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ

ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿۲۸﴾

خرنگه کافران کیږي په الله باندې حال دا چه وی تاسي مړه بیا (الله) ژوندي کړي تاسي (د روح په درکولو سره) بیا به (الله) مړه کړي تاسي بیا به (الله) ژوندي کړي تاسي (په بعث سره) بیا به خاص هم ده ته وروستی شي. (د خپلو اعمالو د جزا لپاره).

**تفسير:** یعني په اوله کښې تاسي بې ځانه اجسام وی. چه حس او حرکت در کښې نه ؤ ړومبي عناصر وی وروسته د مور او پلار خواړه او غذا شوی، او بیا نطفه او وریسي کلکه وینه او بیا یوه توته غوښه شوی، له ړومبنیو حالاتو څخه وروسته په تاسي کښې روح (سا) پوکړه شوه، چه د هغې له امله (وجې) اول د مور په رحم او بیا په دنیا کښې ژوند کوی، کله چه په دنیا کښې د مرگ وخت راشي او مړه شئ بیا به په قیامت کښې ژوندي کیږي چه حساب ورکړي او خپلې عمل نامې واخلی یعني له قبرونو څخه به ووځئ او د الله تعالیٰ په حضور کښې به د حساب او کتاب لپاره ودرولی شی، نو اوس تاسي په خپله انصاف وکړئ هر کله چه تاسي له اوله تر آخره پوري د الله تعالیٰ د احساناتو او فائدو گرو ئی او په هر حالت او حاجت کښې ورته محتاج ئی او هم ده ته امید او هیله (طمعه) لرئ نو په سر د هغه کفر غوره کول او د پاک خدای جل جلاله نافرماني ته ملا تړل څومره د تعجب، افسوس او حیراني خبره ده.

هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُمْ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ اسْتَوَىٰ إِلَى السَّمَاءِ فَسَوَّاهُنَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿۲۹﴾

الله هغه ذات دی چه پیدا کړی ئی دی تاسي ته هغه شیان چه په ځمکه کښې دی تول، بیا ئی قصد وکړ آسمان ته (د پیدا کولو) نو برابر ئی کړل دوی اووه آسمانونه او دی په هر څه باندې ښه عالم دی.

**تفسير:** په دې آیت کښې ئی د بل نعمت بیان وفرمایه، یعني الله تعالیٰ تاسي پیدا کړی یئ او ستاسي د بقاء او گټې لپاره ئی په ځمکه کښې هر ډول (قسم) شیان خورا (ډیر) زیات پیدا کړل لکه د خوړلو، څکلو او آغوستلو شیان هو د هر شي لپاره ئی جلا جلا (جدا جدا) سامانونه او وسیلې، او وروسته له هغه ئی متعدد آسمانونه پیدا کړل چه په هغو کښې تاسي ته راز راز (قسم قسم) منافع او گټې (نفعې) شته دی.

وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً

او (یاد کړه ای محمده!) هغه وخت چه وویل پروردګار ستا پرښتو ته چه بیشکه زه ګرځوونکی یم په ځمکه کښې د یوه خلیفه

**تفسیر:** اوس د یوه لوی نعمت ذکر فرمایي چه پر ګردو (تولو) بنیادمانو ئې کړی دی او هغه د حضرت آدم علیٰ نبینا وعلیه الصلوٰة والسلام د پیدایښت قصه ده چه په تفصیل سره بیان شوی ده او هغه ئې «خلیفة الله» مقرر کړی دی که له پخوانی آیت ﴿ خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ﴾ څخه څوک انکار وکړی نو د آدم علیه السلام له قصی نه د هغه ځواب هم په ښه ډول (طریقه) سره ورکاوه شي.

قَالُوٓا۟ أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَآءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ

نو وویل پرښتو آیا ګرځوی ته په ځمکه کښې هغه څوک چه فساد به کوی په دی کښې او تویوی به (په ناحقه سره) وینی، حال دا چه مونږ تسبیح وایو سره د ثنا ستا او نسبت د پاکی کوو تاته

**تفسیر:** ملائکو ته دا تعجب، فکر او اندیښنه د دی له امله (وجی) پیدا شوه چه د داسی مخلوق د پیدایښت څه ضرورت دی چه په دوی کښې به مفسدین او وینی تویوونکی هم وی. حال دا چه مونږ د الله تعالیٰ ډیر مطیع او فرمان وړونکی بندګان یو نو زمونږ له وجود سره به د دی خلیفه پیدا کولو ته څه اړه (احتیاج) او ضرورت وی؟ نو د تعجب او استفادی په طریقه نه د کوم اعتراض لپاره ئې دا پوښتنه وکړه پاتی شوه دا خبره چه پرښتو ته د بنیادمانو احوال څرنګه څرګند شوی وو؟ په دی کښې ډیر احتمالات شته، یا به ئې په پیریانو باندی قیاس کړی وی یابه الله تعالیٰ پوهولی وی یا به ئې دا خبری په لوح محفوظ کښې لوستی وی یا به پوهیدلی وی چه خلیفه ته خو هلته ضرورت پیښیږی چه ظلم، فساد او تجاوز موجود وی یا به د حضرت آدم علیٰ نبینا وعلیه السلام د قیافی د لیدلو ځنی به دی خبره پوهیدلی وی لکه چه ابلیس د آدم علیه السلام د لیدلو په وخت کښې وویل چه «دا سړی به ډیر غولیږی» لکه چه وروسته له هغه همغسی ولیدل شو.

قَالَ إِنِّيٓ أَعۡلَمُ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٣٠﴾

وويل (الله) بیشکه زه پوهیږم په هغو اسرارو چه تاسی پری نه پوهیږئ.

**تفسیر:** پرښتو ته سمدلاسه په اجمالی طور داسی ځواب ورکړ شو چه مونږ په هغو حکمتونو او مصلحتونو ډیر ښه پوهیږو چه د ده په پیدا کولو کښی شته، څرنګه چه تاسو ته اوس هغه مصالح او حکمتونه نه دی ښکاره نو ځکه د هغه د خلافت او فضیلت په نسبت تعجب کوئ.

وَعَلَّمَ ءَادَمَ ٱلۡأَسۡمَآءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمۡ عَلَى ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ فَقَالَ أَنۢبِـُٔونِي بِأَسۡمَآءِ هَٰٓؤُلَآءِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٣١﴾ قَالُواْ سُبۡحَٰنَكَ لَا عِلۡمَ لَنَآ إِلَّا مَا عَلَّمۡتَنَآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٣٢﴾

او وښودل (الله) آدم ته نومونه تول (د پاسنیو او ځمکنیو شیانو) بیا ئی وروړاندی کړل هغه تول شیان پرښتو ته نو وویل خبر راکړئ تاسی ماته په نومونو د دی شیانو سره که یئ تاسی رښتیا ویونکی (پخپله دغه وینا کښی) وویل پرښتو نسبت د پاکی کوو تاته (له تولو عیبونو او اعتراضونو) نشته هیڅ علم مونږ لره مګر په هغه شی چه ښودلی دی تا مونږ ته بیشکه ته هم دا ته ښه عالم او ښه د حکمت خاوند ئی.

**تفسیر:** لنده ئی دا چه حق تعالیٰ آدم علیه السلام ته د هر شی نوم او د هغه حقیقت او خاصیت، ګټه (فائده) او تاوان وروښود او دا علم ئی بی د کلام له واسطی د القاء په توګه (طریقه) وربه زړه کړه ځکه چه بی له علمی کمال څخه خلافت او په دنیا باندی حکومت امکان نه درلود (لرلو). وروسته له دی، د دی لپاره چه د هغه خاص حکمت او اساسی مصلحت پرښتو ته څرګند شی د دغو پاسنیو یاد شوو شیانو پوښتنه ئی له پرښتو څخه وفرمایله چه «که تاسی په دی خبره کښی رښتینی یئ چه د خلافت د کار په پای (آخر) ته رسولو کښی وړ (لائق) ئی نو د دی شیانو خواص او نومونه راوښیئ!» مګر هغوی په ځواب کښی پخپل عجز او قصور اعتراف وکړ او ښی وپوهیدلی چه بی له دی عمومی معلوماتو څخه هیڅوک پر ځمکه خلافت نشی کولی که څه هم مونږ لږ څه عمومی معلومات لرو مګر دا زمونږ جزی معلومات د دی خبری وړ (لائق) نه دی چه د خلافت مدعیانی شو، د دی خبری له پوهیدلو څخه وروسته تولو په یوه غږ وویل «**یاالٰه العالمینه!** ستا علم او حکمت ته هیڅوک نشی رسیدی!»

قَالَ يٰٓاٰدَمُ اَنۡۢبِئۡهُمۡ بِاَسۡمَآئِهِمۡ ۚ فَلَمَّآ اَنۡۢبَاَهُمۡ بِاَسۡمَآئِهِمۡ ۙ قَالَ اَلَمۡ اَقُلۡ لَّكُمۡ
اِنِّىۡٓ اَعۡلَمُ غَيۡبَ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِۙ وَاَعۡلَمُ مَا تُبۡدُوۡنَ وَمَا كُنۡتُمۡ تَكۡتُمُوۡنَ ﴿۳۳﴾

وويل (الله) اى آدمه! خبر كړه دوى په نومونو د دى شيانو، نو كله چه آدم خبر وركړ دوى ته په نومونو د هغو شيانو وويل (الله) آيا نه ؤ ويلى ما تاسو ته چه بيشكه زه پوهيږم په پټو شيانو د آسمانونو او د ځمكى او پوهيږم پر هغو شيانو چه ښكاره كوئ ئى تاسى په (ژبه) او په هغو شيانو چه يئ تاسى چه پټوئ ئى (په زړونو كښى).

**تفسير:** وروسته له دى د آدم عليه السلام څخه د عالم د تولو شيانو په نسبت سوال وشو «خليفة الله» ژر تر ژره هغه تول ملائكو ته وربيان او تولى پرښتى ئى داسى متعجبى او حيرانى كړى چه د ده په علمى احاطه ئى تحسين او آفرين وويل، نو دلته الله تعالىٰ ملائكو ته وفرمايل «آيا تاسو ته مو نه ؤ ويلى چه بيشكه زه ښه پوهيږم په پټو شيانو د آسمانونو او د ځمكى او ښه خبر يم په هغه شيانو چه ئى څرګندوئ، او پټ ئى ساتئ په خپلو زړونو كښى».

**(فائده):** له دى څخه پر عبادت باندى د علم فضيلت ثابت شو وګورئ چه په عبادت كښى پرښتى دى حد ته رسيدلى دى چه معصومى دى مګر څرنګه چه په علم كښى د انسان څخه كمى دى نو ځكه ئى د خلافت مرتبه انسان ته داسى وركړه چه پرښتى هم ورته تسليمى شوى او ښايى چه هم داسى هم كيده ځكه چه عبادت د مخلوقاتو خاصه ده او د پاك الله صفت نه دى، او علم د الله تعالىٰ له لويو صفاتو څخه دى نو د دى له امله (وجى) حضرت آدم عليه السلام د خلافت وړ (لائق) وګرځيد او د علم لوى صفت ځكه وربه برخه شو چه په هر خليفه كښى د خپل «مستخلف عنه» د كمال وجود يو ضرورى امر دى.

وَاِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلٰٓئِكَةِ اسۡجُدُوۡا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوۡٓا اِلَّآ اِبۡلِيۡسَ ؕ

او (ياد كړه اى محمده!) كله چه وويل مونږ پرښتو ته چه سجده وكړئ آدم ته (د تحيى) پس سجده وكړه دوى (تولو) مګر (سجده ونكړه) ابليس

**تفسير:** كله چه د آدم عليه السلام خلافت مسلم شو نو پرښتو او پيريانو ته امر وشو چه د آدم

علیه السلام په لوری د تحیی (تعظیمی) سجده وکړئ او هغه د خپلی سجدی قبله وګرځوئ د دی امر د منلو له امله (وجی) ټولی پرښتی په سجده ولویدی مګر یواځی (ابلیس) له سجدی کولو څخه سر وغړاوه چه په اصل کښی له پیریانو څخه ؤ او پرښتو سره ګډ او خلط شوی ؤ، د دی غاړی غړولو او سرکشی سبب دا ؤ چه پیریان څو زره کاله پر ځمکه متصرف وو او آسمانونو ته به هم ختل کله چه د هغوی عصیان او فساد ډیر شو او په وینو تویولو کښی ئی ډیر زیادت وکړ نو له دغو پیریانو څخه ځینی د پاک الله په امر د پرښتو له خوا ووژل شول او ځینی وتښتیدل په دښتو (بیابانونو) او ځنګلو او د غرونو په درو او جزیرو کښی پټ، تیت او پرک (خواه واره) شول (ابلیس) چه د دی پیریانو یو لوی عالم او عابد ؤ د پیریانو په فساد کښی ئی خپل پردیتوب (بیګانتوب) او بی ګناهی ښکاره کړه او د پرښتو په سپارښتنه له هم دوی سره محفوظ پاتی شو او په دی هیله (امید) او تمه چه وروسته له دی نه به د تولو شړل شوو پیریانو په ځای زه د ټولی ځمکی والی او متصرف وټاکل (مقرر) شم په عبادت او ریاضت کښی ئی ډیر زیار (کوشش) او زحمت ایست او پرله پسی به د ځمکی د خلافت په چرت (خیال) کښی ډوب تللی ؤ، کله چه د الله تعالیٰ اراده دآدم علیه السلام د خلافت په نسبت ظاهره شوه نو (ابلیس) مایوس شو او د خپل ریائی عبادت په بی ځایه تللو له اندازی زیات خپه شو او د حسد او کینی په جوش کښی ئی هغه کارونه وکړل چه په توان کښی ئی وو او په نتیجه کښی ملعون شو.

أَبَىٰ وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ ﴿٣٤﴾

منع ئی راوړه (له سجدی نه) او لوئی ئی وکړه او ؤ دی (لا له پخوا څخه په علم د الله کښی) له کافرانو څخه.

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ په علم کښی له اوله دی کافر ؤ مګر نورو ته اوس د هغه عصیان او کفر ورښکاره شو، یا ئی داسی وبوله چه اوس کافر شو ځکه چه د پاک الله امر ئی د تکبر او لویی له امله (وجی) ونه مانه او د الله جل جلاله حکم ئی له مصلحت او حکمت څخه مخالف او د ننګ او عار موجب وګانه او یوازی له دی جهته کافر نه شو چه سجده ئی ونکړه.

وَقُلْنَا يَا آدَمُ اسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا وَلَا تَقْرَبَا هَٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ الظَّالِمِينَ ﴿٣٥﴾

او وویل مونږ ای آدمه! واوسیږه! ته او ښځه ستا په جنت کښی او خورئ! له میوو د جنته (څه چه مو زړه غواړی) پریمانه هر چیرته مو چه خوښه وی او

مه نژدی کیږئ دی ونی ته (د میوی خوړلو دپاره) (که نژدی شوئ) نو شئ به له ظالمانو څخه.

**تفسیر:** مشهوره ده چه هغه د غنمو ونه وه یا د څینو په وینا د انګورو یا انځرو یا ترنجو یا د بل شی ونه وه والله اعلم.

فَأَزَلَّهُمَا الشَّيْطَٰنُ عَنْهَا فَأَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيهِ

پس وښویول دوی دواړو لره شیطان له جنته (د ونی د نژدیوالی په واسطه) نو ویی ایستل دواړه له هغه (عزت او راحت) څخه چه وو دوی په هغو کښی.

**تفسیر:** وایی چه آدم او حواء علیهما السلام په جنت کښی هستوګنه لرله شیطان چه خپل هغه د عزت ځای د آدم علیه السلام د مخالفت له امله (وجی) له لاسه ورکړی ؤ لا د حسد او رخی (کینی) د سیند په ګرداب کښی لاهو شو تر دی چه له مار او طاؤس سره یو ځای جنت ته ننوت او بیړی حواء ئی په یو دول (قسم) سره وښویوله او له لاری ئی وویستله او له هغی ونی څخه ئی څه شی وخوړ او په آدم علیه السلام باندی ئی هم وخوړ او داسی اطمینان او ډاډګیرنه ئی ورکړه چه د دی ونی د میوی خوړلو څنی سری تل په جنت کښی پاتی او د الله تعالیٰ د نورو مهربانیو مورد هم ګرځی او لا ورته مقرب او نژدی کیږی او د الله تعالیٰ د هغه ممانعت توجیه ئی هم په خپل فکر سره بل دول (قسم) ورجوړه کړه، وروسته دا قصه په مفصل دول (طریقه) سره راځی.

وَقُلْنَا اهْبِطُوا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ

او وویل مونږ چه کوز شئ (له جنته ځمکی ته) حال دا چه څینی ستاسی به له څینو نورو سره دښمنان وی.

**تفسیر:** د دی تیروتلو په سزا آدم او حواء علیهما السلام او د هغوی تولی اولادی ته هم دا امر صادر شو چه د جنت څخه راکوز شئ! او په ځمکه کښی هستوګنه وکړئ! تاسی به یو له بله سره دښمنی کوئ! چه د هغی له امله (وجی) به تاسی ته دیر زیات تکلیفونه او ربړونه (تکلیفونو) دریپښیږی ځکه چه جنت د سرکشی او دښمنی ځای نه دی د دی کارونو لپاره دنیا دیر مناسبت لری چه د بندګانو د امتحان لپاره جوړه شوی ده.

وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَّمَتَاعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴿۳۶﴾

او شته تاسی ته په ځمکه کښی ځای د هستوګنی او اسباب د ګټی (فائدی) اخستلو تر یوه وخته پوری (چه اجل یا قیامت دی).

**تفسیر:** یعنی په دنیا کښی به تل نه اوسیږئ! بلکه تر یوی تاکلی (مقرری) مودی پوری به هلته اوسیږئ! او د هغه ځای له شیانو څخه به ګټه (فائده) اخلئ! بیا به له ما سره مخامخ کیږئ! او هغه تاکلی (مقرر) وخت هر چا لره د مړینی وخت دی او ټولو مخلوقاتو ته په مجموعی دول (طور) د قیامت ورځ ده.

فَتَلَقَّىٰ آدَمُ مِن رَّبِّهِ كَلِمَاتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ ۚ إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿۳۷﴾

پس زده کړی آدم له پروردګار خپل څخه څو کلمی پس رجوع وکړه (الله) په هغه باندی (په رحمت سره) بیشکه هم دی دی ښه توبه قبلوونکی ښه مهربانی کوونکی.

**تفسیر:** کله چه حضرت آدم علیه السلام د الله تعالیٰ دا عتاب واورید او له جنت نه ووت نو د ندامت او پښیمانی په حالت کښی په ژړا او واویلا او په زاری مشغول شو، په دی وخت کښی حق تعالیٰ په خپل فضل او مرحمت سره ده ته څو کلمی د القاء او الهام په توګه (طریقه) ور زده کړی چه د هغو په لوستلو د ده توبه قبوله شوه هغه کلمی دا دی

﴿ رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنفُسَنَا وَإِن لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴾

(د «الأعراف» اوله رکوع)

قُلْنَا اهْبِطُوا مِنْهَا جَمِيعًا ۖ

(بیا) وویل مونږ چه کوز شئ له جنته ټول

**تفسیر:** مطلب دا دی چه حق تعالیٰ د آدم علیه السلام توبه قبوله کړه خو جنت ته ئی سمدلاسه د ورتګ امر ورنکړ بلکه امر ئی پری وکړ چه په دنیا کښی هستوګنه وکړئ. ځکه چه د هغه د حکمت او مصلحت اقتضاء هم داسی وه. ښکاره خبره ده چه دی ئی د ځمکی لپاره «خلیفه» تاکلی (مقرر کړی) ؤ، نه د جنت لپاره او الله تعالیٰ هم داسی فرمایلی دی هر هغه چه زما تابع او منونکی وی نو هغه ته به د دنیا هستوګنه هیڅ ضرر نه رسوی بلکه ګټه (فائده) ورته لری.

هو! نافرمانو خلقو ته دوزخ دی، د دغو دوه ؤ متضادو عنصرو د بیلولالی او امتحان لپاره هم دا دنیا مناسب ځای دی.

فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدًى فَمَن تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٣٨﴾

پس که راغی تاسی ته له ما څخنی کوم هدایت پس هر څوک چه پیروی وکړی د هدایت زما پس نه به وی هیڅ قسم ویره پر دوی باندی او نه به وی دوی (هیچیری) چه خپه کیږی (او جنت ته به ځی).

**تفسیر:** هغه صدمه او اندیښنه چه چاته د کوم مصیبت د وقوع نه پخوا پیښیږی هغی ته خوف وایی، هغه غم او خپګان چه انسان ته له مصیبته وروسته رسیږی، هغه ته حزن وایی مثلاً هغه کیفیت ته چه د یوه مریض د مړ کیدلو له تصور نه چاته وررسیږی خوف او هغه کیفیت ته چه د هغه له مړ کیدلو څخه وروسته پیدا کیږی حزن وایی مثلاً د هغه خوف او حزن نفی چه په دی آیت کښی شوی ده، که له هغه څخه دنیوی «خوف» او «حزن» مراد شی، نو د هغه معنی به داسی کیږی هغه کسان چه زما له هدایته سره سم تګ کوی نو دوی ته هیڅ د دی اندیښنی ځای نشته چه دا به حق هدایت نه وی، او د شیطان له لوری به فریب او مغالطه وی، او نه به دوی د دی له امله (وجی) غمجن وی چه اوس خو د دوی له پلار څخه جنت اخیستی شوی دی، ځکه د هدایت لار مونږونکی ژر تر ژره جنت ته ور رسیږی، او که اخروی «خوف» او «حزن» مراد وی، نو به ئی مطلب داسی وی چه په قیامت کښی به د هدایت خاوندانو ته نه «خوف» وی او نه «حزن» مګر د «حزن» په نشتوالی کښی خو هیڅ د شک او شبهی ځای نشته، ځکه د «خوف» له نفی څخه دا اندیښنه په زړه کښی رالویږی چه د جزا په ورځ کښی تر انبیاؤ علیهم السلام پوری به هم په «خوف» او ویره کښی وی او هیڅ څوک به بی ویری نه وی، خبره دا ده چه «خوف» دوه دوله (قسمه) دی کله د خوف باعث او مرجع په ویریدونکی کښی لیدله کیږی لکه چه باچاهی مجرم له باچا څخنی ویریږی، نو د «خوف» موجب جرم دی چه نسبت ئی ورته کیږی او کله د خوف منشأ «مخوف منه» وی، یعنی لکه چه یو بی ګناه شخص چه د بادشاه یا د زمری له هیبت څخه ویریږی، نو د دی ویری سبب دا نه دی چه ګواکی دغه شخص د باچا یا د زمری په مقابل کښی کومه ګناه کړی ده بلکه د باچا قهر او جلال، یا د زمری سبعیت، غضب او هیبت، د دغه خوف موجب ګرځیدلی دی چه منشأ ئی د پاچا جلال یا د زمری هیبت دی. نو په دی آیت کښی ئی اول قسم «خوف» نفی کړ نه دوهم قسم دا شبهه خو هلته واردیدله چه د ﴿ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ ﴾ په ځای ئی (لاخوف فیهم) یا ﴿ لَا يَخَافُونَ ﴾ فرمایلی وی.

وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٣٩﴾
يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اذْكُرُوا نِعْمَتِيَ الَّتِي أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَوْفُوا بِعَهْدِي أُوفِ
بِعَهْدِكُمْ وَإِيَّايَ فَارْهَبُونِ ﴿٤٠﴾

---

او هغه کسان چه کافران شوی دی او دروغ گڼی آیاتونه زمونږ هم دغه کسان صاحبان د اور (دوزخ) دی هم دوی به په هغه (اور د دوزخ) کښی همیشه وی. ای بنی اسرائیلو! (اولادی د یعقوبه!) یاد کړئ! نعمت زما هغه چه انعام می کړی دی پر تاسی او وفا وکړئ په عهد زما (په متابعت د نبی) چه زه هم وفا وکړم په عهد ستاسی (په دخول د جنت) او خاص له مانه پس وویریږئ (له مناهیو ځان وساتئ او د دنیوی منافعو له لاس وتلو څخه مه ویریږئ!)

---

**تفسیر:** اول ﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا ﴾ عام خطاب ؤ، او په هغه کښی د هغو نعمتونو ذکر ؤ چه گردو بنیادمانو ته په عمومی ډول (طریقه) ورکړی شوی وو، مثلاً د ځمکی، آسمان او نورو گردو شیانو پیدایښت، بیا د آدم علیه السلام د پیدایښت، او د هغه د خلافت او جنت ته د ادخال او نورو یادونه وشوه. اوس له بنیادمانو څخه خاص بنی اسرائیلو ته خطاب کړی شوی دی، او هغه خاص نعمتونه ئی ورپه یاد کړی دی چه وخت په وخت او پښت په پښت (پشت په پشت) ئی پر دوی انعام کړی دی، او هغه ناشکری چه دوی د نعمتونو په مقابل کښی کړی دی، د هغو گردو (تولو) یادونه په مفصل ډول (طریقه) سره کوله شی ځکه چه بنی اسرائیل د بنیادمانو په تولو فرقو کښی ممتاز وو، د علم خاوندان د آسمانی کتابونو، انبیاؤ او د نبوت پیژندونکی او لرونکی وو ځکه چه د حضرت یعقوب علیه السلام له پیری څخه د حضرت عیسیٰ علیه السلام تر پیری پوری څلور زره انبیاء په دوی کښی مبعوث شوی دی او د گردو (تولو) عربو سترگی دهغوی په لوری وی چه آیا بنی اسرائیل زمونږ د پیغمبر حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د رسالت تصدیق کوی که نه؟ نو له دی امله (وجی) ئی د انعاماتو او خرابیو یادونه په تفصیل سره فرمایلی ده.

چه دوی ښه پری متأثر شی او د خجالتی په سبب ایمان راوړی او که نه نور خلق خو به په دی وسیله د دوی له دی حرکاتو څخه واقف شی او بیا به د هغوی په نورو خبرو باور نه کوی اسرائیل د یعقوب علیه السلام نوم دی چه معنی ئی بنده د الله یعنی عبدالله دی.﴿ اذْكُرُوا نِعْمَتِيَ ﴾ الآیه ـ یاد کړئ ای بنی اسرائیلو نعمت زما هغه چه انعام می کړی دی پر تاسی) چه په

زرګونو انبياء ئې په دوی کښې مبعوث کړی دی (توريت) او نور کتابونه ئې پر دوی نازل فرمايلی دی، دوی ئې د فرعون له عذابه ژغورلی (ساتلی) دی، د دوی تصرف او تسلط ئې د شام پر هيواد (ملک) قايم کړی دی، پر دوی ئې د«من» او «سلوىٰ» خواږه نازل کړی دی له يوی تيږی (ګټی) څخه ئې د اوبو دوولس چينی دوی ته بهولی دی او هسی نعمتونه او د عاداتو خوارق ئې ورپه برخه کړی دی چه د نورو خلقو په برخه نه دی شوی ﴿ وَأَوۡفُواْ بِعَهۡدِيٓ ﴾ الآيه ـ او وفا وکړئ په عهد زما په متابعت د نبی چه زه هم وفا وکړم په عهد ستاسی په دخول د جنت په «توريت» کښې هسی امر شوی ؤ چه تاسی د «توريت» پر احکامو ټينګ اوسئ! او پر هر نبی عليه السلام باندی چه در ويی ليږم ايمان راوړئ! او له هغه سره ملګرتيا وکړئ! چه د (شام) هيواد (ملک) ستاسو په قبضه کښې پاتی شی بنی اسرائيلو دا ګردی (تولی) خبری منلی وی مګر بيا دوی په خپلو دغو وعدو ونه درېدل په بدنيتی ئې پيل (ابتدا) وکړ۔ په رشوتونو باندی ئې خبری او مسئلی اړولی او غلطی ئې ورښوولی ـ او حق به ئې پټاوه ـ وروسته له دی چه خپل رياست ئې قائم کړ د انبياؤ له اطاعت څخه ئې سر وغړاوه، بلکه د څينو په وژلو ئې هم لاس پوری کړ. د «توريت» په هر ځای کښې چه د حضرت محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم صفتونه او ستايني وی هغه ئې بدلی کړی نو د دی شيانو له امله (وجی) ګمراهان شول.

---

وَءَامِنُواْ بِمَآ أَنزَلۡتُ مُصَدِّقٗا لِّمَا مَعَكُمۡ وَلَا تَكُونُوٓاْ أَوَّلَ كَافِرِۭ بِهِۦۖ وَلَا تَشۡتَرُواْ بِـَٔايَٰتِي ثَمَنٗا قَلِيلٗا وَإِيَّٰيَ فَٱتَّقُونِ ٤١ وَلَا تَلۡبِسُواْ ٱلۡحَقَّ بِٱلۡبَٰطِلِ وَتَكۡتُمُواْ ٱلۡحَقَّ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٤٢

---

او ايمان راوړئ! په هغه کتاب چه نازل کړی دی ما حال دا چه (تصديق کوونکی دی د هغه کتاب) چه تاسی سره دی او مه کيږئ! اول کافر (نه منونکی) په دی (قرآن) باندی او مه پيرئ (مه آخلی) په آيتونو زما قيمت لږ او خاص له مانه پس ووېرېږئ! (دا کار مه کوئ!) او مه ګډوئ حق له باطل سره (خپل دروغ له رښتيا د (توريت سره) او (مه) پټوئ! حق حال دا چه تاسی پوهيږئ (په دی خلط او پټولو سره)

---

**تفسير:** په «توريت» کښې ليکل شوی ؤ هغه پيغمبر چه د «توريت» تصديق وکړی هغه صادق دی نو تاسی ئې ومنئ او که توريت ونه منی دروغ وايی.

**(تنبيه):** قرآني احکام په اوامرو، نواهيو او د انبياؤ په عقايدو، سوانحو، اخبارو او د آخرت په احوالو، او نورو شيانو کښې له «توريت» او نورو پخوانيو کتابونو سره سم او موافق دی هو! د

هغوی ځینی اوامر او نواهي منسوخ شوی هم دی مګر هغه د تصدیق ځنی مخالف نه دی. د تصدیق مخالف تکذیب دی او د الله جل جلاله د کتابونو تکذیب بیخي کفر دی. ځینی قرآنی آیتونه هم منسوخ شوی دی مګر (نعوذبالله) هغه ته څوک تکذیب نه وایي ځکه چه نسخ په انشاء او تکذیب په اخبار کښي راځي.

﴿ وَلَا تَكُونُوٓا۟ أَوَّلَ كَافِرٍۭ بِهِۦ ﴾ الآیه ـ او مه کیږئ اول کافر نه منونکی په دی قرآن باندی). یعنی تاسی سره له پوهي ړومبني تکذیب کوونکی مه شئ! چه تر قیامته پوری به د منکرانو ګناه ستاسو په غاړه کښي لویږی، که د مکي مشرکان تکذیب او انکار کوی خو هغه د دوی له جهل او بی خبری ځني دی او په قصد سره نه دی، نو سره له پوهي اول منکران تاسو یئ! او دا کفر له ړومبني کفر څخه ډیر سخت دی.

که جاهل وکړی ګناه، شي به معذوره ▪ پوهنده عاصي به وی له عذره دوره

نابینا که شي اړتاو ملامت نه دی ▪ که په غتو ګوری وی خو په زړه کوره

وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱرْكَعُوا۟ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴿٤٣﴾

او سم قائموئ (په ښه ترتیب سره ادا کوئ) لمونځ! او ورکوئ زکات! او رکوع وکړئ! سره له رکوع کوونکو (لمونځ کوونکو مسلمانانو).

**تفسیر:** یعنی په جماعت سره تل لمونځ وکړئ! له دی نه پخوا په هیڅ یوه دین کښي په جماعت سره لمونځ نه کیده او د یهودانو په لمانځه کښي رکوع نه وه نو د دی آیت خلاصه دا ده چه یوازی دا ذکر شوی شیان ستاسی د نجات دپاره کافي نه دی، بلکه په ګردو (تولو) اصولو کښي د آخرالزمان نبی صلی الله علیه وسلم پیروی وکړئ! او لمونځ هم د هغه په طریقه اداء کړئ! چه په هغه کښي جماعت او رکوع دواړه شته!

أَتَأْمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلْبِرِّ وَتَنسَوْنَ أَنفُسَكُمْ وَأَنتُمْ تَتْلُونَ ٱلْكِتَٰبَ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٤٤﴾

آیا امر کوئ تاسی نورو خلقو ته په نیکی سره او هیروئ ځانونه خپل؟ حال دا چه تاسی لولئ کتاب (چه په کښي د قول او عمل په نه سمون (برابری) وعید دی) آیا نو تاسی نه پوهیږئ (د خپلو افعالو په بدی)

**تفسیر:** د یهودانو ځینو عالمانو به داسې کمال کاوه چه نورو خلقو ته به ئې ویل چه «د اسلام دین ښه دی او دوی به په خپله نه مسلمانیدل» دی یهودی پوهانو او نورو ظاهربینو خلقو ته به په دغسې مواردو کښې داسې شبهې پیدا کیدې «کله چه مونږ د شریعت د احکامو په تعلیم کښې قصور نه کوو او حقه خبره نه پټوو نو دی ته به څه ضرورت پاتی وی چه مونږ په خپله هم پرې عمل وکړو، کله چه زمونږ له هدایت سره سم ډیر خلق شرعې احکام ادا کوی نو د «**الدال علی الخیر کفاعله**» په حکم سره د دوی عملونه زمونږ دی. نو په دی آیت کښې د دی دواړو مفکورو بطلان فرمایل شوی دی. د دی آیت مطلب دا دی چه واعظ ته ښایی چه په خپل وعظ باندې خامخا عمل وکړی او دا غرض نه دی چه فاسق دی چاته نصیحت نه کوی.

وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ۚ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى الْخٰشِعِينَ ﴿٤٥﴾
الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُمْ مُّلٰقُوا رَبِّهِمْ وَأَنَّهُمْ إِلَيْهِ رٰجِعُونَ ﴿٤٦﴾

او مدد وغواړئ (په هره سختی کښې له الله) په صبر او لمانځه سره او په تحقیق دا لمونځ خامخا ډیر دروند دی مګر (نه دی دروند) په عاجزی کوونکو (خوند آخستونکو له طاعته) هغو کسان چه یقین کوی چه بیشکه دوی مخامخ کیدونکی دی له پروردګار خپل سره او په تحقیق دوی هم ده ته (په آخرت کښې) بیرته ورتلونکی دی

**تفسیر:** د اهل کتاب عالمانو چه د حقانیت له څرګندیدلو نه وروسته ئې هم په محمد صلی الله علیه وسلم ایمان نه راووړ د هغه لوی سبب د مال او جاه مینه او محبت ؤ چه الله تعالیٰ د دی دواړو علاج دلته ورښودلی دی، د صبر کولو په سبب د مال مینه او حرص له مینځه ځی او د لمونځ کولو په اثر عبودیت او تذلل پیدا کیږی او د لویوالی مینه کمیږی او په تحقیق لمونځ ډیر دروند دی مګر نه دی دروند په عاجزی کوونکو خوند اخستونکو له طاعته یعنی صبر او د زړه په حضور لمونځ کول ډیر دروند او سخت کار دی. مګر دا سخت کار یوازی په هغه چا آسان دی چه عاجزی کوی او له الله تعالیٰ نه ویریږی او د دوی خیال او فکر به هم دی لوری وی چه مونږ خامخا له الله تعالیٰ سره مخامخ او د هغه الله په لوری ورتلونکی یو یعنی په لمانځه کښې د الله تعالیٰ تقرب حاصلیږی. ګواکی (ګویاکی) له هغه سره کتنه ده. یا به په قیامت کښې د حساب او کتاب لپاره ور وړاندی کیدونکی یو.

يٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتِيَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ وَأَنِّي فَضَّلۡتُكُمۡ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٤٧﴾

ای بنی اسرائیلو (د یعقوب اولادئ!) یاد کړئ نعمت زما هغه چه انعام می کړی دی په تاسي او (بل دا یاد کړئ! چه) بیشکه ما غوره کړی یئ تاسی (نیکونه ستاسی) په خلقو (د زمانی خپلی).

**تفسیر:** څرنګه چه د تقویٰ او کامل ایمان حاصلول د صبر، حضور او په عبادت کښی د غرق کیدلو په وسیله سخت وو نو آسانه لاره ئی ښیی چه هغه شکر دی، نو ځکه حق تعالیٰ خپل هغه انعامات او احسانات وربه یادوی چه وخت په وخت ئی په دوی باندی کړی دی او هم د دوی د ناوړو (ناراوۏ) کارونو ذکر کوی دا یوه فطری مسئله ده چه نه یوازی انسان بلکه حیوانات هم د خپل منعم سره مینه لری او د هغه پیروی کوی هم دغه مضمون په څو رکوع ګانو کښی په مفصل ډول (طریقه) بیان شوی دی.

**(فائده):** په عالمیانو باندی د بنی اسرائیلو له فضیلت څخه مطلب دا دی چه دوی د پیدایښت له ابتدا څخه د دی خطاب تر نازلیدلو پوری په نورو ګردو (تولو) فرقو فضیلت درلود (لرلو) او هیڅوک د دوی ساری (سیال) نه ؤ کله چه هغوی د پاک قرآن او د آخری زمانی د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په مقابل کښی ودریدل نو د دوی فضیلت له منځه ولاړ او د ﴿ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ﴾ او ﴿ٱلضَّآلِّينَ﴾ لقب وربه برخه شو او د حضرت محمد صلی الله علیه وعلی آله واصحابه وسلم پیروانو (تابعدارانو) ته د ﴿كُنتُمۡ خَيۡرَ أُمَّةٍ﴾ خلعت ورکړ شو.

وَٱتَّقُواْ يَوۡمٗا لَّا تَجۡزِي نَفۡسٌ عَن نَّفۡسٖ شَيۡـٔٗا وَلَا يُقۡبَلُ مِنۡهَا شَفَٰعَةٞ وَلَا يُؤۡخَذُ مِنۡهَا عَدۡلٞ وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ﴿٤٨﴾

او وویریږئ (له عذابه) د هغی ورځی چه لری کولی به نه شی هیڅ نفس له هیڅ (کافر) نفس څخه هیڅ شی (له عذابه) او نه به منل کیده شی له دغه نفس څخه شفاعت (سپارښت د هیچا) او وابه نه خیستی شی له دغه نفس څخه بدل (فدیه) او نه به له دوی سره مدد وکړی شی (په دفع د عذاب کښی).

**تفسیر:** کله چه څوک په کومه بلا اخته کیږی نو د هغه دوستان زیاتره له دی وسیلو څخه کار اخلی ړومبی د هغه د حق د ادا کولو له پاره زیار (محنت) کوی که په دی وسیله کار ونه شو

نو د سپارښت په وسیله زیار (محنت) کوی چه هغه له دی بلا نه وژغوری (وساتی)، که ئی په دی سره هم څه له لاسه ونشوه، نو خپل دوستان او مرستیالان سره تولوی څو د هغه د ژغورلو (ساتلو) لپاره څه تدبیر جوړ کړی که په دی توګه (طریقه) هم څه کار ونه شو نو بیا څه تاوان او فدیه وروړاندی کوی چه خپل عزیز له هغی بلا نه خلاص کړی، که په دی څلورو طریقو هم څه ونه شی نو خپل مرستیالان (مدد ګاران) راټولوی څو چه د متو په زور او قوت سره هغه وژغوری (وساتی) حق تعالیٰ هم له پورتنی ترتیب سره سم دلته ارشاد فرمایی چه کوم سری که په هره اندازه د الله تعالیٰ دښمنان دی له څلور ګونو صورتونو څخه په هیڅ یو صورت څه ګته (فائده) نشی رسولی بنی اسرائیلو به ویل که مونږ هر څومره زیاته ګناه هم وکړو الله تعالیٰ به مونږ عذاب نه نازلوی او نه له مونږ څخنی پوښتنه کوی ځکه چه زمونږ پلرونه او نیکونه انبیاء تیر شوی دی هغوی له الله تعالیٰ څخنی زمونږ مغفرت او برائت حاصلوی نو الله تعالیٰ فرمایی چه ستاسی دا خیال غلط دی د دی آیت په سبب له هغه شفاعت څخه انکار نه کیږی چه په هغه باندی مونږ «اهل السنت والجماعت» قائل یو لکه چه په نورو آیتونو کښ مذکور دی دغه آیت سره د ظاهری تعمیم او نور قرآنی آیتونه د ﴿ فَمَا لَنَا مِن شَافِعِينَ ﴾ په اساس یوازی په کفارو پوری تخصیص لری.

---

وَإِذْ نَجَّيْنَٰكُم مِّنْ ءَالِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ يُذَبِّحُونَ أَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَآءَكُمْ ۚ وَفِى ذَٰلِكُم بَلَآءٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴿٤٩﴾

---

او (یاد کړئ!) هغه وخت چه نجات درکړی وو مونږ (نیکونو) د تاسی ته له عملی د فرعون څخه چه رساوه به ئی تاسی ته سخت عذاب چه ذبح کول به ئی ځامن د تاسی او ژوندی به ئی پریښودی (د خدمت دپاره) ښځی (لونی) د تاسی او په دی (حلالولو یا خلاصولو یا تولو کښی مصیبت یا نعمت یا ...) امتحان ؤ له (طرفه) د پروردګار د تاسی ډیر لوی.

---

**تفسیر:** فرعون خوب ولید او نجومیانو د هغه د خوب تعبیر داسی وکړ چه په بنی اسرائیلو کښی داسی یو سړی پیدا کیږی چه ستا دین او دا شهنشاهی به خرابوی، فرعون امر وکړ چه په بنی اسرائیلو کښی وروسته له دی نه هر هلک چه پیدا شی، هغه دی ووژل شی! او د هغو نجونی (جینکی) دی د خدمت لپاره ژوندی وساتلی شی څو سره له دی سخت امر او کلکی کتنی حق تعالیٰ موسیٰ علیه السلام پیدا او هغه ئی ژوندی وساته! ﴿بَلَآءٌ﴾ څو معنی ګانی لری، که د ﴿ذَٰلِكُم﴾ اشاره د ذبحی په لوری واخیسته شی نو معنی به ئی «مصیبت» وی، که نجات ته اشاره وی نو د ﴿بَلَآءٌ﴾ معنی به «نعمت» وی. او که د ذبحی او نجات د دواړو په لوری اشاره وی نو له ﴿بَلَآءٌ﴾ څخنی به مطلب «امتحان» او ازموینه وی.

وَإِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ الْبَحْرَ فَأَنْجَيْنَاكُمْ وَأَغْرَقْنَا آلَ فِرْعَوْنَ وَأَنْتُمْ تَنْظُرُونَ ﴿۵۰﴾

او (یاد کړئ!) هغه وخت چه څیری کړ مونږ د تاسی لپاره بحر نو نجات درکړ مونږ تاسی ته او غرق کړل مونږ عمله د فرعون (سره له فرعون) حال دا چه تاسی ورته کتل.

**تفسیر:** یعنی ای بنی اسرائیلو یاد کړئ هغه لوی نعمت چه ستاسی پلرونه او نیکونه د فرعون له ویری څخه وتښتیدل او داسی یو ځای ته ورسیدل چه وړاندی مخامخ دوی ته لوی دریاب او وروسته په دوی پسی د فرعون لوی لښکر راته چه هغوی راچاپیر او تول سره ګیر او په لوی عذاب او ویر کښی اخته کړی، نو مونږ تاسی ته نجات او خلاصی درکړه او د فرعون لښکر مو تول ډوب کړ. دا قصه وروسته په تفصیل سره راځی.

وَإِذْ وَاعَدْنَا مُوسَىٰ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِنْ بَعْدِهِ وَأَنْتُمْ ظَالِمُونَ ﴿۵۱﴾

او (یاد کړئ!) هغه وخت چه وعده کړی وه مونږ له موسیٰ سره څلویښت شپی بیا ونیوه تاسی خوسی (سخی) (معبود) پس له (تللو) د موسیٰ (طور ته) او وئ تاسی (په دی کار کښی په خپلو نفسونو) ظالمان.

**تفسیر:** دا قصه او احسان هم د یادولو وړ (لائق) دی چه مونږ له موسیٰ علیه السلام سره د (توریت) د ورکولو وعده څلویښت شپی او ورځی کیښوده وروسته له دی چه موسیٰ د (طور) غره ته تشریف یووړ بنی اسرائیل د خوسی (سخی) په عبادت مشغول او لګیا شول، نو تاسی ډیر بی انصاف یئ چه خوسی (سخی) مو په خپلی خدایی وټاکه (ونیووه) دا قصه هم په تفصیل سره راځی.

ثُمَّ عَفَوْنَا عَنْكُمْ مِنْ بَعْدِ ذَٰلِكَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿۵۲﴾

بیا عفوه وکړه مونږ له تاسی نه وروسته له دغه (د خوسی (سخی) د عبادت کولو نه) دپاره د دی چه تاسی شکرګذار شئ.

**تفسیر:** مطلب دا چه مونږ ستاسی له دی ښکاره شرکه سره بیا هم ستاسی له دی گناه نه تیر شوو او ستاسی توبه مو ومنله او تاسی مو سمد لاسه لکه د فرعونیانو په شان ونه وژلئ که څه هم د هغوی گناه نسبت تاسو ته لږ هم وه خو هلاک مو کړل چه تاسی ئی شکر ادا کړئ او زما احسان ومنئ!.

وَإِذْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ وَالْفُرْقَانَ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿٥٣﴾

او (یاد کړئ!) هغه وخت چه ورکړی وو مونږ موسیٰ ته کتاب (توریت) او بیلوونکی (د حق او باطل) دپاره د دی چه تاسی سمه لاره ومومئ (په توریت سره).

**تفسیر:** کتاب خو «توریت» دی. له (فرقان) نه هغه شرعیه احکام مراد دی چه د هغوی له مخی جائزی او ناجائزی مسئلی راڅرگندیږی، یا له (فرقان) نه مقصد د حضرت موسیٰ علیه السلام معجزی دی چه د هغوی له مخی به د ریښتیا او دروغو او د مؤمن او کافر تمیز کیده. یا به (فرقان) د همغه کتاب (توریت) بدل وی چه په هغه سره هم حق او ناحق جلا (جدا) کیږی.

وَإِذْ قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ

او (یاد کړئ!) هغه وخت چه وویل موسیٰ قوم خپل ته

**تفسیر:** له قوم نه خاص همغه خلق مراد دی چه هغوی خوسی (سخی) ته سجدی کولی.

يَا قَوْمِ إِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ أَنْفُسَكُمْ بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ فَتُوبُوا

إِلَى بَارِئِكُمْ فَاقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ ط

ای قومه زما! بیشکه تاسی (چه یئ) ظلم کړی دی تاسی پر ځانو خپلو په سبب د نیولو د تاسی خوسی (سخی) لره (په خدایی سره) پس توبه وباسئ (تول) خالق د تاسی ته نو ووژنئ ځانونه خپل؛

**تفسیر:** یعنی هغه کسان چه خوسی (سخی) ته ئی سجده نه ده ایښی، هغوی دی هغه کسان ووژنی چه خوسی (سخی) ئی خدای ګڼلی او سجده ئی ورته کړی وه، ځینی وایی چه بنی اسرائیل په دریو برخو ویشلی شوی وو

(۱) : هغه ډله چه هم ئی خوسی (سخی) ته سجده ونه کړه او هم ئی نورو ته وویل چه خوسی (سخی) ته سجده مه کوئ.

(۲) : هغه ډله چه په خپله دوی خوسی (سخی) ته سجده ونه کړه مګر نور ئی د خوسی (سخی) له سجدی نه منع نه کړل.

(۳) : هغه ډله چه په خپله دوی خوسی (سخی) ته سجده وکړه. په دریمه ډله امر وشو چه تول دی ووژل شی «دوهمی ډلی ته وویل شول» چه تاسی هغوی ووژنئ چه دا ستاسی د چوپ (چپ) پاتی کیدلو توبه شی او اولی ډلی په دی کښی له سره شرکت ونه کړ ځکه چه هغوی ته د دی توبی هیڅ ضرورت نه ؤ پاتی چه له سره ګناه ئی نه وه کړی.

---

ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ عِنْدَ بَارِئِكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ۝٥٤

---

دغه (ځان وژل) ستاسی بهتر دی تاسی ته په نزد د خالق د تاسی پس قبوله ئی کړه توبه ستاسی! بیشکه الله هم دی ښه توبه قبلوونکی ښه مهربان دی (په توبه کوونکو).

---

**تفسیر:** عالمان په دی خبره کښی سره اختلاف لری چه آیا هم دا وژل کیدل توبه وه؟ اوکه د توبی تتمه وه؟ لکه چه زمونږ په «محمدی شریعت» کښی د عمد د قاتل د توبی د مقبولیت لپاره دا خبره هم ضروری ده چه قاتل دی د مقتول د ورثی په لاس کښی وسپارلی شی! د مقتول وارثان واک او اختیار لری چه هغه قاتل وژنی، که ئی بخښی.

---

وَإِذْ قُلْتُمْ يَٰمُوسَىٰ لَن نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّىٰ نَرَى ٱللَّهَ جَهْرَةً فَأَخَذَتْكُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ
وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ ۝٥٥ ثُمَّ بَعَثْنَٰكُم مِّنۢ بَعْدِ مَوْتِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ۝٥٦

او (یاد کړئ!) هغه وخت چه وویل تاسي ای موسیٰ له سره به باور ونه کړو مونږ په خبره ستا تر هغه پوري چه په خپله وووینو الله ښکاره پس ونیولئ تاسي تندر (اور) حال دا چه تاسي (ورته) کتل پس له هغه بیا ژوندي کړئ مونږ تاسي پس له مرګه د تاسي دپاره د دي چه تاسي شکرګذار شئ.

**تفسیر:** هغه وخت هم ضرور یاد کړئ! چه سره له دومره احسانونو او ښیګنو (فائدو) تاسي موسیٰ علیه السلام ته وویل چه «مونږ ستا په دي خبره تر هغه پوري باور نشو کولی چه دا د پاک الله خبري دي، ترڅو مونږ پخپلو سترګو الله تعالیٰ ونه وینو» ستاسي د هم دي غوښتني په سبب ۇ چه د برېښنا په وسیله ووژلی شوئ! بیا د موسیٰ علیه السلام په دعا سره بیرته ژوندي شوئ! دا د هغه وخت قصه ده چه موسیٰ علیه السلام اویا تنه غوره سري له ځانه سره د (طور) غره ته بیولي وو چه د الله تعالیٰ کلام واوري. کله چه دوي په خپلو غوږونو د پاک الله خبري واوریدلي نو د بني اسرائیلو هم دي اویا تنو منتخبو سړیو وویل چه مونږ په داسي خبرو باندي چه ویونکي ئې نه راښکاري او نه ئې وینو، باور نشو کولی مونږ ته الله تعالیٰ راوښیه! چه په خپلو سترګو ئې په عین المشاهده ووینو او په غوږو سره د هغه خبري واورو د دي غوښتني له امله (وجي) ۇ چه وربانديٰ تکه (تندر) ولویده او د تندر له اثره ټول سره مړه شول.

وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْغَمَامَ وَأَنْزَلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى ۖ كُلُوا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ ۖ وَمَا ظَلَمُونَا وَلٰكِنْ كَانُوٓا أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٥٧﴾

او (یاد کړئ!) هغه وخت چه سوري ګرځولي وه مونږ په تاسي وریځ (د تیه په میدان کښي) او نازل کړي وو مونږ په تاسي من (ترنجبین) او سلویٰ (مرغان) وخورئ! له پاکیزو د هغو شیانو نه چه روزي درکړي ده مونږ تاسي ته او ظلم نه ۇکړی دوي پر مونږ باندي (هیڅ په دغه عصیان سره) او لیکن وو دوي چه په ځانو خپلو به ئې ظلم کاوه (په کفران او عصیان سره).

**تفسیر:** کله چه فرعون ډوب شو او بني اسرائیل د الله تعالیٰ په امر سره له (مصر) نه د (شام) په لوري رهي (روان) شول په یوه سپیره ډاګ (صفا میدان) کښي د هغوی خیمي وشلیدي او دوي د لمر له تودوالي نه سخت په عذاب شول، دلته د الله تعالیٰ په فضل سره دوي باندي د وریځي سوري وشو، څرنګه چه دوي ته د خوړلو لپاره څه شي نه پیدا کیده د پاک الله له لوري د دوي د خوړلو لپاره «من» او «سلویٰ» ورنازل شول. «من» لکه نبات یو ډیر خواږه خواړه وو، او داني به ئې ترنجبین (د ځوزو ګوړي) ته ورته وي، کله چه دوي د شپي له مخي ویده کیدل سحر

(گهيځ) به د دی لښکر په شاوخوا کښې د «من» انبارونه پراته وو چه هر چا به له هغه څخه له خپل حاجت سره سم اخيسته. «سلویٰ» يو مرغه دی چه مونږ ورته مرغ وايو چه هر ماښام به د دی مرغانو په زرهاؤ دانی سره توليدلی چه د لږ څه تياری څخه وروسته به هر سړی له هغو څخنی له خپل ضرورت سره سم نيول، وريتول او خوړل به ئی، تر ډيری مودی پوری د دوی خواړه هم دا «من» او «سلویٰ» وه.

﴿ كُلُوا۟ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقْنَٰكُمْ ﴾ - خورئ تاسی له پاکيزه د هغو شيانو څخه چه روزی درکړی ده مونږ تاسی ته) يعنی په دی لطيفی او خوندوری غذا باندی اکتفاء وکړئ او په ډيره خوښی سره ئی وخورئ او د بلی ورځی لپاره ئی د ذخيری (زيرمی) په ډول (طريقه) مه ساتئ! او له نورو سره د هغه د مبادلی غوښتنه مه کوئ!.

﴿ وَمَا ظَلَمُونَا ﴾ الآيه - او ظلم نه ؤکړی دوی پر مونږ باندی هيڅ په دغه عصيان سره ليکن دوی په خپلو ځانو باندی ظلم کوی په کفران او عصيان سره اول ئی داسی ظلم وکړه چه د دی په زيرمه (ذخيره) کولو ئی پيل (شروع) وکړ چه هغه به ورستيده، تعفن (بدبوئی) (ډدوزی) به ئی ختلی، دوهم ئی د هغی د مبادلی غوښتنه وکړه چه نسک، هوږه، پياز او نوری غلی او ترکاری (ترکودی) راکړی شی، چه د دی له امله (وجی) په راز راز (قسم قسم) ربړونو (تکليفونو) اخته شول.

---

وَإِذْ قُلْنَا ٱدْخُلُوا۟ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةَ فَكُلُوا۟ مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا وَٱدْخُلُوا۟ ٱلْبَابَ سُجَّدًا وَقُولُوا۟ حِطَّةٌ نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطَٰيَٰكُمْ ۚ وَسَنَزِيدُ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٥٨﴾

---

او ياد کړئ!) هغه وخت چه وويل (مونږ بنی اسرائيلو ته د موسیٰ په ژبه) چه ننوځئ! دغی قريی (اريحا) ته پس خورئ! له (ميوو) د ده څخه هر چيرته چه مو خوښه وی (څه چه مو زړه غواړی) پريمانه او ننوځئ! په دروازه (د دی ښار) کښې سجده کوونکی او ووائ! (ای ربه وبخښه زمونږ گناهونه!) چه وبخښو تاسی ته گناهونه د تاسی. او ژر ده چه زيات به کړو نيکانو ته (اجر).

---

**تفسير:** کله چه بنی اسرائيل په دی پاس ډاگ کښې له ډيرو گرځيدلو څخه تنگ شول او د ډير «من» او «سلویٰ» له خوړلو ستړی شول، نو پر دوی امر وشو چه په هغه ښار کښې ننوځئ! چه نوم ئی (اريحا) ؤ، او په هغه کښې د «عمالقه» قوم چه د (عاد) له قومه څخه وو هستوگنه

درلوده (لرله)، ځینې وایي چه دا ښار بیت المقدس ؤ.
﴿ وَّادۡخُلُوا الۡبَابَ سُجَّدًا ﴾ او ننوځئ په دروازه د دی ښار کښې سجده کوونکی (یعنی) د دی ښار په دروازه کښې د شکر سجده وکړئ! او بیا پکښې ننوځئ! دا خو بدنی شکر شو. ځینې وایي چه د تواضع او عاجزی له امله (وجې) خپلې ملاوی لږ څه کږی کړئ!. او په ژبه سره د خپلو ګناهونو بخښنه وغواړئ! دا خو لساني شکر شو. هر هغه څوک چه دا دواړه کارونه کوی د هغه ګردی (ټولی) خطاوی بخښلی کیږی او د نیکو بندګانو ثوابونه ورزیاتوو.

فَبَدَّلَ الَّذِيۡنَ ظَلَمُوۡا قَوۡلًا غَيۡرَ الَّذِىۡ قِيۡلَ لَهُمۡ فَاَنۡزَلۡنَا عَلَى الَّذِيۡنَ ظَلَمُوۡا رِجۡزًا مِّنَ السَّمَآءِ بِمَا كَانُوۡا يَفۡسُقُوۡنَ ﴿٥٩﴾

پس بدله کړه هغو کسانو چه ظلم ئی کړی وو (په خپلو ځانو) خبره په بل شان له هغې خبرې څخه چه ویلې شوی وه دوی ته پس نازل کړ مونږ پر هغو کسانو چه ظلم ئی کړی ؤ عذاب له (طرفه) د آسمانه په سبب د دی چه وو دوی چه سر به ئی غړاوه (د الله له فرمانه).

**تفسیر:** داسی تبدیلی ئی پکښی وکړه چه د «حطة» په ځای ئی د ټوکو او مسخرو په دول (طریقه) (حنطة) وویل(چه معنی ئی غنم دی) او د سجدی په ځای به په خپلو کوناتیو ښوئیدل، کله چه هغه ښار ته ورسیدل، نو په هغوی کښی طاعون ورګډ شو او په یوه ماسپښین کښی اویا زره یهودان مره شول.

وَاِذِ اسۡتَسۡقٰى مُوۡسٰى لِقَوۡمِهٖ فَقُلۡنَا اضۡرِبْ بِّعَصَاكَ الۡحَجَرَ ؕ فَانۡفَجَرَتۡ مِنۡهُ اثۡنَتَا عَشۡرَةَ عَيۡنًا ؕ

او (یاد کړئ!) هغه وخت چه اوبه وغوښتی موسیٰ خپل قوم ته (په میدان د تیه) پس وویل مونږ (موسیٰ ته) چه ووهه په همسا خپلی سره تیږه (ګټه) (نو چه ویی وهله تیږه) (ګټه) پس وخوټیدلی (روانی شوی) له هغی تیږی (ګټی) څخه دوولس چینی

**تفسیر:** دا قصه هم د هغه میدان ده، کله چه هغوی اوبه ونه میندلی، نو موسیٰ علیه السلام پر

یوه تیره (ګته) باندې خپله همسا ووهله، نو دوولس چینې وبهیدې، حال دا چه د بنی اسرائیلو قبیلې هم دوولس دې، د ځینو قبیلو سرې زیات او د ځینو قبیلو سرې لږ وو، د هر قوم په تناسب یوه چینه وه. او د پیژندګلوۍ نښه ئې هم دغه موافقت ؤ یا داسې تاکلې (مقرر) شوې وه چه د دې تیږې (ګټې) له فلانې خوا څخه چه په فلانې لورې کومې اوبه بهیږې، هغه به د فلانې قوم اوبه وې، هغه لنډ نظره چه له هسې معجزاتو څخنې انکار کوی نو (سرې نه دې دوې دې چپ له سریتوبه) وګورئ! چه «مقناطیس» په څه ډول (طریقه) سره اوسپنه خپل لورې ته کشوې (راکاږې) نو دې تیږې (ګټې) ته هم الله تعالیٰ هسې یو قوت وربښلې ؤ چه له هر لورې څخنې به ئې اوبه ځان ته کشولې (راښکلې) او بیا به ئې خپلو شاوخواوو ته بهولې.

---

قَدْ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ كُلُوا وَاشْرَبُوا مِن رِّزْقِ اللَّهِ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿٦٠﴾

---

په تحقیق سره وپیژانده هر قوم ځای د اوبو څښلو خپلو (وویل مونږ) خورئ! او څښئ! له (خاص) روزی د الله څخه (بې له واسطې د اسبابو) او مه تیریږئ له حده په ځمکه کښې حال دا چه ورانې کوونکې اوسئ تاسې (په خپلو فساد اچولو سره)

---

**تفسیر:** یعنی بیا الله تعالیٰ وفرمایل چه له «من» او «سلویٰ» څخنې خورئ! او د دغو چینو له اوبو څخنې څښئ! او په جهان کښې فساد مه اچوئ!

چه له غیبه نه دررسی خواړه ډیر ▪ هوښیار اوسه چه له میچه نه شی تیر
په ګناه سره بندیږی نعمتونه ▪ په ګناه سره زیاتیږی زحمتونه

---

وَإِذْ قُلْتُمْ يَا مُوسَىٰ لَن نَّصْبِرَ عَلَىٰ طَعَامٍ وَاحِدٍ فَادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُخْرِجْ لَنَا مِمَّا تُنبِتُ الْأَرْضُ مِن بَقْلِهَا وَقِثَّائِهَا وَفُومِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَا ط

---

او (یاد کړئ!) هغه وخت چه وویل تاسې ای موسیٰ! هیڅکله صبر نشو کولی

مونږ پر طعام يو (قسم د من او سلوی) باندی پس وغواړه زمونږ لپاره له خپل پروردگار نه چه راوباسی مونږ ته له هغو شيانو څخه چه زرغونوی ئی ځمکه له سابو (ساګو) د دی او له بادرنگو (ترو) د دی او له هوړی (يا غنمو يا نخودو) د دی او له نسکو د دی او له پيازو د دی

**تفسير:** دا قصه هم د همغه ميدان ده، بنی اسرائيلو چه د هغو غيبی طعامو له خوړلو څخه ماړه شول نو ئی په داسی وينا سره شروع وکړه «مونږ په يوه راز (قسم) خوړو صبر نشو کولی، مونږ ته له ځمکی څنی پيدا شوی شيان لکه غلی، دانی، ترکاری سابه او نور شيان په کار دی».

قَالَ اَتَسْتَبْدِلُوْنَ الَّذِیْ هُوَ اَدْنٰی بِالَّذِیْ هُوَ خَیْرٌ ؕ

نو ووېل (موسیٰ) آيا بدلوئ! (آخلئ!) تاسی هغه شی چه هغه ناکاره دی په هغه شی چه هغه ډير غوره دی.

**تفسير:** يعنی هغه (من ـ ترنجبين) او (سلویٰ ـ مرغان) چه له هره حيثه تاسی ته ښه دی په هوړو پيازو او نورو سره ئی ولی بدلوئ؟

اِهْبِطُوْا مِصْرًا فَاِنَّ لَكُمْ مَّا سَاَلْتُمْ ؕ

(کله چه مو داسی وکړل نو) کوز شئ (د شام له تيه نه) يوه ښار ته پس بيشکه تاسی ته دی هغه شی چه غواړئ ئی

**تفسير:** که ستاسی زړه هم داسی شيانو ته کيږی نو کوم ښار ته لاړ شئ چه ستاسی دا مطلوبه شيان تول دروړسيږی لکه چه بيا هم داسی وشول.

وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ وَبَآءُوْ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ ؕ

او مقرر کړی شو پر دوی (د نعمت د کفران او په خپل قسمت د نارضايئ په سبب) ذلت او محتاجئ او اخته شول دوئ په غضب له (جانبه د) الله

**تفسير:** ذلت او خواری هم دا ده چه يهودان تل د مسلمانانو او نصاری ؤ رعيت او محکوم دی، که څه هم له دوی سره ډير مال وی، خو د پت او عزت خاوندان نه بلل کيږی نو دا مال د هغو

د خوارئ سبب او د دوی د ځان وبال ګرځی، یهودان له حکومت او خپلواکئ ځنی چه د پت او عزت سبب دی بیخی بی برخی دی او په مالی حیثیت کښی هم دوی اول د مال په قلت کښی اخته دی، که یو نیم سری ئی مال هم لری نو دی د نورو له ویری هغه نه شی ځرګندولی او تل خپل ځان مفلس او حاجتمند ښکاره کوی، د ډیر حرص او بخل له امله (وجی) له محتاجانو څخه بدتر په نظر راځی، ځکه چه اصلی غنا د زړه غنا ده، کله چه الله تعالیٰ د زړه قناعت او غنا له دوی څخه اخیستی ده نو ځکه دوی خوار او محتاج ښکاری، ولی چه دوی له هغه عظمت او عزت څخه چه الله تعالیٰ دوی ته وربخښلی ؤ مخونه واړول او رجوع ئی تری وکړه، نو د الله تعالیٰ په دی قهر او غضب اخته شول.

چه د خدائ په نعمت څوک شی نارضا

ګنج به ئی درومی رنځ به مومی شی اخته په غم بلا

ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُوا يَكْفُرُونَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَيَقْتُلُونَ النَّبِيّٖنَ بِغَيْرِ الْحَقِّ ۗ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوا يَعْتَدُونَ ﴿٦١﴾

دا (خواری او عاجزی) په سبب د دی وه چه بیشکه دوی وو کافران (منکران) په آیتونو (احکامو) د الله او وژل به ئی انبیاء (لکه شعیب، زکریا او یحییٰ) په ناحقه سره دا (کفر او قتل) په دی سبب ؤ چه سرکشی ئی کوله (له احکامو د الله نه) او وو دوی چه له حدودو به تیریدل (د عصیان په سبب).

**تفسیر:** یعنی د دی ذلت او مسکنت او د الٰهی غضب باعث د دوی کفر او د انبیاؤ علیهم السلام وژل وو او د کفر او قتل باعث، الله تعالیٰ د احکامو مخالفت او نافرمانی او شریعت له حدودو څخه وتل وو.

إِنَّ الَّذِينَ اٰمَنُوا وَالَّذِينَ هَادُوا وَالنَّصٰرٰى وَالصّٰبِـِٔينَ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٢﴾

بیشکه هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او هغه کسان چه یهودان شوی دی او نصرانیان او بی دینان هر هغه چا (له دوی ځنی) چه ایمان راوړی دی په الله او په ورځ د قیامت باندی او عمل ئی کړی دی د نیکو (سم له محمدی شریعت سره) نو وی به دوی ته ثواب د دوی په نزد د رب د دوی او نه به وی (هیڅ قسم) ویره په دوی باندی او نه به دوی هیڅیری خپه کیږی (په وخت د جزا کښی).

**تفسیر:** یعنی دا عنایت په کومی خاصی فرقی پوری موقوف نه دی، یقین راوړل شرط دی، نیک عمل چه د هر چا په برخه شو همغه ثواب به مومی، نو ځکه ئی وفرمایل چه بنی اسرائیل په دی خبره مغرور وو چه «مونږ د انبیاؤ اولاده یو مونږ له هره خوا الله تعالیٰ ته نژدی او ښه یو».
**(فائده):** د حضرت موسیٰ علیه السلام امت ته (جهود) یا (یهود) او د حضرت عیسیٰ علیه السلام امت ته (نصاریٰ) یا (ترسا) وایی. «صابئین» داسی یوه فرقه ده چه هغوی په خپل گمان سره ښه ښه شیان له هره دینه خپلو ځانو ته غوره کړی دی. لکه چه دوی حضرت ابراهیم علیه السلام منی، د پرښتو عبادت کوی، زبور لولی، د کعبی شریفی په لوری لمونځ کوی.

وَإِذۡ أَخَذۡنَا مِيثَٰقَكُمۡ وَرَفَعۡنَا فَوۡقَكُمُ ٱلطُّورَ خُذُواْ مَآ ءَاتَيۡنَٰكُم بِقُوَّةٖ وَٱذۡكُرُواْ مَا فِيهِ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ﴿٦٣﴾

او (یاد کړئ!) هغه وخت چه واخیست مونږ محکم عهد ستاسی ځخه او پورته کړ مونږ په سر ستاسی د طور (غر) واخلئ هغه څه (احکام) چه درکړی دی مونږ تاسی ته په ښه کوښښ سره او یاد کړئ هغه (احکام) چه په هغه کښی دی دپاره د دی چه تاسی ځانونه وساتئ (له گناهونو ځخه).

**تفسیر:** وایی کله چه «توریت» نازل شو نو بنی اسرائیلو له شرارته وویل د «توریت» حکم درونډ او مشکل دی، د هغه تعمیل زمونږ له لاسه نه دی پوره د دی وینا له امله (وجی) الله تعالیٰ یوه غره ته امر وکړ چه د دوی په سرونو باندی راتیت شی، نو په شاوخوا کښی ئی اورونه بل شول او دوی ته هیڅ یو داسی فرصت او موقع پاتی نه شوه چه د (توریت) له منلو نه سر وغړوی نو ئی مجبوراً د هغه احکامو ته غاړه کښیښوده، پاتی شوه دا شبهه چه د «توریت» په منلو کښی د هغوی په سر باندی د غره ځړیدل څرگنده اکراه او اجبار دی چه د ﴿لَآ إِكۡرَاهَ فِي ٱلدِّينِ﴾ له آیت ځخه چپ او د تکلیف له قاعدی نه بیخی خلاف دی، ځکه چه د تکلیف بناء خو په

اختیار باندی ده او اکراه له اختیار سره مناقضه ده. نو د دی شبهی ځواب دا دی چه بنی اسرائیلو د موسیٰ علیه السلام دین لا له پخوا څخه منلی ؤ او څو څو ځلی ئی له حضرت موسیٰ علیه السلام څخنی غوښتنه کړی وه چه «کوم هسی آسمانی کتاب مونږ ته راوړئ چه مونږ د هغه په احکامو عمل وکړو!» او پر دی باندی ئی معاهده سره کړی وه، نو کله چه «توریت» راغی او هغوی ته ور وسپارل شو، عهد ماتولو ته ئی ملاوی وتړلی، دلته پر دوی باندی د غره تعلیق د وعده خلافی له امله (وجی) وشو نه د موسی علیه السلام د دین د نه منلو له سببه.

---

ثُمَّ تَوَلَّيْتُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ ۖ فَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ لَكُنتُم مِّنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٦٤﴾

---

بیا شا کړه تاسی (د الله له فرمانه وګرځیدئ) پس له دغه عهده نو که چیری نه وی فضل د الله پر تاسی او رحمت (مهربانی) د ده (د توبی په قبلولو او یا تاسی ته د محمد په درلیږلو) نو هرومرو (خامخا) به شوی وئ تاسی له زیانکارانو څخه.

---

**تفسیر:** یعنی وروسته له عهد او میثاقه بیا له خپلو خبرو نه واوښتئ، که د الله تعالیٰ فضل په تاسی باندی نه وی شوی نو بیخی به پنا کیدئ یعنی په همغه وخت کښی به هلاکیدئ یا دا چه سره له توبی او استغفاره او د آخرالزمان نبی صلی الله علیه وسلم له متابعته سره به مو هم هغه ګناهونه نه معافیدل.

---

وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ ٱلَّذِينَ ٱعْتَدَوْا۟ مِنكُمْ فِى ٱلسَّبْتِ فَقُلْنَا لَهُمْ كُونُوا۟ قِرَدَةً خَٰسِـِٔينَ ﴿٦٥﴾

---

او خامخا په تحقیق سره ښه پیژندلی دی تاسی هغه کسان چه تجاوز ئی کړی وو له تاسی څخه (د ماهیانو په ښکار) په (ورځی د) شنبی کښی نو وویل مونږ دوی ته چه شئ! بیزوګان ذلیلان (خوار شوی).

---

**تفسیر:** بنی اسرائیلو ته په «توریت» کښی حکم شوی ؤ چه «د شنبی ورځ عبادت ته مقرره ده، په دی ورځ کښی د ماهی (کب) ښکار مه کوئ، !» دی خلقو په چل او فریب سره د شنبی په

ورځ هم ښکار کاوه، نو الله تعالیٰ دوی مسخ کړل او د هغوی صورتونه ئی د بیزوګانو په شان واړول، په دوی کښې که څه هم انساني پوهه او شعور ؤ او یوه به بل ته کتل، مګر خبرې ئی نه شوی سره کولی او ژړل به ئی، له دری ورځو وروسته ټول مړه شول، دا واقعه د داؤد علیه السلام په زمانه کښې شوی وه، د دی پیښې تفصیل د «**الأعراف**» په سورت کښې راځي.

فَجَعَلْنٰهَا نَكَالًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهَا وَمَا خَلْفَهَا وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٦٦﴾

نو وګرځاوه مونږ دا، (عقوبت او مسخه) عبرت پند دپاره د هغو خلقو چه حاضر وو (د دی عقوبت په زمانه کښې) او دپاره د هغو خلقو چه وروسته له دی (عقوبت څخه تر قیامته راځي) او پند دپاره د پرهیزګارانو.

**تفسير:** یعني دا واقعه او عقوبت مو د خوف، ویرې او د عبرت باعث وګرځاوه چه ټول وړاندني او وروستني خلق ترې پند واخلي «یعني هغه کسان چه دا واقعه ئی په خپله لیدلی ده، یا ئی وروسته آوری» یا دا عبرت د هغو خلقو له پاره دی چه ښار ته مخامخ یا ئی شاته پراته دي.

وَإِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖٓ إِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تَذْبَحُوْا بَقَرَةً ؕ

او (یاد کړه ای محمده!) هغه وخت چه وویل موسیٰ قوم خپل ته چه بیشکه الله امر کوی تاسی ته چه حلاله کړئ یوه غوا (چه قاتل درمعلوم شي)

**تفسير:** یعني یاد کړئ هغه وخت چه په بني اسرائیلو کښې یو سړی (عامیل) نومی ووژل شو او د هغه وژونکی نه ؤ معلوم او دوی هغه یو په بل باندی سره اړاوه نو له حضرت موسیٰ علیه السلام څخه ئی غوښتنه وکړه چه د ده قاتل رامعلوم کړه! نو حضرت موسیٰ علیه السلام وفرمایل «د الله تعالیٰ دا امر دی چه یوه غوا حلاله کړئ او د هغې یوه ټوټه په هغه مړی ووهئ! نو دا مړی به ژوندی شي او خپل قاتل به په خپله دروښیی». الله تعالیٰ په هم دی ډول (طریقه) هغه مړی ژوندی کړ او هغه خپل قاتل چه وارث ئی ؤ وروښود چه د ده د مال په طمع ئی وژلی ؤ په نتیجه کښې قاتل په قصاص ورسید او ورثه ئی له میراثه محروم شول.

قَالُوْٓا أَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا ؕ

وویل (بني اسرائیلو) آیا ګرځوی ته مونږ مسخره؟

**تفسیر:** یعني له مونږ سره مسخري کوې؟ ځکه چه په حلالولو د غوا کله قاتل معلومیږي او مونږ دا نه لیدلي دي او نه مو آوریدلي دي چه د غوا د غوښي د یوې ټوټي له وهلو څخه به مړی ژوندی کیږي.

---

قَالَ اَعُوْذُ بِاللّٰهِ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْجٰهِلِيْنَ ﴿٦٧﴾

---

وویل (موسیٰ) پنا غواړم په الله له دې نه چه شم له ناپوهانو (مسخره کوونکو څخه).

---

**تفسیر:** یعني ټوکي او مسخري کول د ناپوهانو او جاهلانو کار دی په تیره بیا دا کار په شرعي احکامو کښي نشته او له (نبي) څخه هیڅکله کیدونکي نه وي.

---

قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَّنَا مَا هِيَ ۭ

---

وویل (بني اسرائیلو) چه وغواړه دپاره زمونږ له پروردګار خپل چه بیان کړي مونږ ته چه څرنګه ده هغه غوا

---

**تفسیر:** یعني څرنګه ده هغه غوا چه مړی پرې ژوندی کیږي، یعني د هغې عمر څومره دی؟ او د هغې حالات څرنګه دي؟ زړه ده که وړه ده؟ او په څه ډول (طریقه) ئې ومومو؟

---

قَالَ اِنَّهٗ يَقُوْلُ اِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا فَارِضٌ وَّلَا بِكْرٌ ۭ عَوَانٌۢ بَيْنَ ذٰلِكَ ۭ فَافْعَلُوْا مَا تُؤْمَرُوْنَ ﴿٦٨﴾ قَالُوا

---

وویل (موسیٰ) چه بیشکه الله وایي بیشکه هغه یوه غوا ده چه نه ډیره زړه ده او نه ډیره وړه ده میانه حاله ده په منځ د دغو (زوړوالي او وړوکوالي) کښي پس وکړئ هغه څه چه پرې مامور شوی یئ! بیا وویل

---

**تفسیر:** یعني هغه غوا حلاله کړئ.

ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَّنَا مَا لَوْنُهَا ۚ قَالَ إِنَّهُ يَقُولُ
إِنَّهَا بَقَرَةٌ صَفْرَاءُ فَاقِعٌ لَّوْنُهَا تَسُرُّ النَّاظِرِينَ ﴿٦٩﴾
قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا هِيَ

(بنی اسرائیلو) چه وغواړه (ای موسٰی) دپاره زمونږ له پروردګار خپل چه بیان کړی مونږ ته چه څرنګه دی رنګ ئی ووېل (موسیٰ) چه بېشکه الله وایی بیشکه هغه یوه غوا ده زیړه چه تک زیړ دی رنګ ئی چه خوشالوی (زړونه د) لیدونکو ووېل (بنی اسرائیلو) چه وغواړه دپاره زمونږ له پروردګار خپل چه بیان کړی مونږ ته چه څه قسم ده دغه غوا؟ (کارکوونکی ده که صحرایی ده؟)

**تفسیر:** یعنی په ښکاره ډول (طریقه) سره ئی راوښیی چه هغه غوا څه قسم ده او د څه کار دپاره ده.

إِنَّ الْبَقَرَ تَشَابَهَ عَلَيْنَا وَإِنَّا إِن شَاءَ اللَّهُ لَمُهْتَدُونَ ﴿٧٠﴾ قَالَ إِنَّهُ

بیشکه غوا شبهه اچولی پر مونږ (ځکه زیړی او ځوانی غواګانی ډیری دی) او بیشکه مونږ که اراده وکړی الله هرومرو (خامخا) لارموندونکی یو. ووېل (موسیٰ) بیشکه الله

**تفسیر:** یعنی د دغی غوا یا قاتل موندونکی یو. په حدیث کښی راغلی دی چه که «انشاء الله» ئی نه وی ویلی، نو هیچیری به ئی دغه غوا نه وه موندلی.

که «استثنا» دوی نه وی کړی په دی وار ■ همیشه به «تشابه» وه په دوی بار
ولیکن د «استثناء» په برکت ■ لار موندونکی کړل مقصود ته کردګار

يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا ذَلُولٌ تُثِيرُ الْأَرْضَ وَلَا تَسْقِي الْحَرْثَ مُسَلَّمَةٌ لَّا شِيَةَ فِيهَا

وايي بيشکه دا يوه غوا ده چه نه ربړ (تکليف) ايستونکی ده چه قلبه کوی ځمکه او نه اوبه کوی (په ارټ سره) کښت، (فصل) ساتلی شوی ده (له کارونو، عيبونو يا له نورو رنګونو) نشته هيڅ يو داغ په رنګ د دی کښی.

**تفسير:** يعني په اعضاؤ کښی ئی هيڅ نقصان نشته او په رنګ کښی ئی د بل کوم رنګ هيڅ يو داغ او خال نشته، بلکه تکه زيړه ده.

قَالُوا الْـٰٔنَ جِئْتَ بِالْحَقِّ ۚ فَذَبَحُوهَا وَمَا كَادُوا يَفْعَلُونَ ﴿٧١﴾

وويل (بنی اسرائيلو موسٰی ته چه) اوس دی راوړه روښانه خبره نو حلاله کړه دوی هغه غوا او نه وو نژدی دوی (دی خبری ته) چه دا کار به ئی کړی وی. (د قيمت له ډير والی يا د قاتل د پيدا کيدلو له شرمه).

**تفسير:** دا غوا د داسی يوه نيکبخت سړی وه چه د خپلی مور خدمت به ئی زيات کاوه خلقو هغه غوا له ده نه په دومره سرو زرو سره واخيسته چه د هغی غوا په پوستکی کښی ځائيدل او بيا ئی حلاله کړه، دوی داسی نه ګڼل چه دا غوا به په دومره ګران قيمت سره په لاس راځی او که پوهيدلی وی نو نژدی وو چه لاس ئی ترينه اخيستی وی.

وَإِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا فَادَّارَأْتُمْ فِيهَا ۖ وَاللَّهُ مُخْرِجٌ مَا كُنْتُمْ تَكْتُمُونَ ﴿٧٢﴾

(او ياد کړئ!) هغه وخت چه مړ کړ (پلرونو) ستاسی يو سړی نو په جګړه شوئ په هغه (مقتول) کښی او الله ښکاره کوونکی دی د هغه شی چه وئ تاسی چه پټاوه به مو هغه (قتل)

**تفسير:** يعني ستاسی پلرونو (عاميل) وژلی ؤ، بيا ئی د هغه وژل يو په بل اړول او هغه شی چه تاسی پټاوه يعني ايمانی ضعف يا د وژونکی احوال الله تعالیٰ درښکاره کړ.

فَقُلْنَا اضْرِبُوهُ بِبَعْضِهَا ۚ

نو وويل مونږ چه ووهئ دا مړی په يوی بوټی د غوا (بيا ژوندی شو هغه مقتول)

**تفسير:** يعنى كله چه ئى د هغى غوا يوه توته غوښه په هغه مړى ووهله هغه مړى د پاک الله په حکم ژوندى شو او وينى د هغه له پرهارو څخه وبهيدى او د خپل وژونكى نوم ئى وروښود چه د هم دغه مقتول وريرونه وو، او د خپل تره د مال او ميراث په تمه ئى په بيديا (صحرا) كښى هغه وژلى وو وروسته له هغه چه ژوندى شو او خپل قاتلان ئى وښودل، بيرته ولويد او مړ شو.

كَذٰلِكَ يُحْيِ اللّٰهُ الْمَوْتٰى وَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۷۳﴾

هم داسى (لكه چه عاميل ئى ژوندى كړ) ژوندى كوى الله مړى (په قيامت كښى) او درښيى تاسى ته آيتونه د (قدرت) خپل لپاره د دى چه تاسى غور وكړئ!

**تفسير:** يعنى هم داسى چه هغه مقتول ئى ژوندى كړ، الله تعالىٰ په خپل كامل قدرت د قيامت په ورځ كښى ټول خلق هم ژوندى كوى او د خپل كامل قدرت آيتونه تاسى ته درښيى څو تاسى غور وكړئ او وپوهيږئ چه پاک الله مړى هم ژوندى كولى شى.

ثُمَّ قَسَتْ قُلُوْبُكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ

بيا سخت شول زړونه ستاسى پس له دغه (ژوندى كولو د مړى)

**تفسير:** يعنى «عاميل» له ژوندى پاڅيدلو نه وروسته، مطلب دا دى چه د قدرت د هسى آياتو له ليدلو څخه وروسته هم ستاسى زړونه پاسته نشول.

فَهِىَ كَالْحِجَارَةِ اَوْ اَشَدُّ قَسْوَةً ؕ وَاِنَّ مِنَ الْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ الْاَنْهٰرُ ؕ وَاِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ مِنْهُ الْمَآءُ ؕ وَاِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ ؕ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۷۴﴾

نو دغه (زړونه) په مثل د تيږى (ګټى) دى (په سختوالى كښى) بلكه ډير زيات دى په سختوالى كښى. او بيشكه چه له ځينو تيږو (ګټو) څخنى خامخا

هغه دی چه خوتیږی (بهیږی) له هغو څخه لویی لویی ویالی او په تحقیق سره ځینی له دی تیږو (ګتو) څخه خامخا هغه دی چه چوی نو راوځی له هغو څخه اوبه او بیشکه ځینی له دی تیږو (ګتو) څخه خامخا هغه دی چه رارغړی (د غره له سره) له ویری د الله او نه دی الله بی خبر له هغه څه چه کوئ ئی تاسی (ای یهودانو!).

**تفسیر:** یعنی له ځینو تیږو (ګتو) څخه ډیری ګټی (فائدی) رسیږی چه ډیری اوبه او ویالی ور څخه وځی او له ځینو تیږو (ګتو) څخه لږ اوبه وځی او د هغه ږومبنی قسم په نسبت لږی فائده ورڅخه اخیسته کیږی که څه هم له ځینو تیږو (ګتو) څخه چاته څه فائده نه رسیږی خو په هغو کښی یو ځانته اثر او تأثر موجود وی، مګر د دوی زړونه له دی دری ډولو (قسمه) تیږو (ګتو) څخه سخت دی. نه په هغو کښی څه فائده او نه پکښی د خیر کومه خبره شته. ای یهودانو! الله تعالیٰ ستاسی له اعمالو څخه هیڅکله بی خبر نه دی.

أَفَتَطْمَعُونَ أَن يُؤْمِنُوا لَكُمْ وَقَدْ كَانَ فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَسْمَعُونَ كَلَامَ اللَّهِ ثُمَّ يُحَرِّفُونَهُ مِن بَعْدِ مَا عَقَلُوهُ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ۝٧٥

آیا نو تمه کوئ تاسی (ای مسلمانانو) چه ایمان به راوړی دوی (په وینا ستاسو او بیشکه چه وه یوه ډله (د پخوانیو) له دوی چه اوریده به ئی کلام د الله بیا به ئی اړوله هغه خبره وروسته له هغه چه پوه به شول په هغی حال دا چه دوی به پوهیدل (په دی تحریف او افتراء)

**تفسیر:** له فریق څخه هغه خلق مراد دی چه د طور غره ته له موسیٰ علیه السلام سره د الله تعالیٰ د خبرو د اوریدلو له پاره تللی و، هغوی د طور څخه د بیرته راتګ په وخت کښی له ځانه داسی خبری تحریف او جوړی کړی او وویل «څه چه مو له لاسه کیږی هغه وکړئ! او په څه چه مو وس نه رسیږی د هغه پریښودل ستاسی په اختیار کښی دی.» ځینی وایی چه د الله تعالیٰ د کلام څخه مراد «توریت» دی. او له تحریف څخه دا مراد دی چه د هغه په آیاتو کښی ئی لفظی او معنوی تحریفونه کول کله به ئی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نعت بدلاوه کله به ئی د رجم او نور آیتونه له منځه ایستل.

وَإِذَا لَقُوا الَّذِينَ آمَنُوا قَالُوا آمَنَّا وَإِذَا خَلَا بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ قَالُوا أَتُحَدِّثُونَهُم بِمَا فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ لِيُحَاجُّوكُم بِهِ عِندَ رَبِّكُمْ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٧٦﴾

او کله چه ملاقات وکړی (یهودان) له هغو کسانو سره چه مؤمنان دی وایی چه ایمان راوړی دی مونږ او کله چه یوازی شی ځینی د دوی له ځینو نورو سره نو وایی دوی آیا خبروئ تاسی (ای یهودانو) مؤمنان په هغه شی چه پرانستلی دی الله په تاسی (په توریت کښی) د دی لپاره چه جګړه وکړی له تاسی سره مؤمنان په هغه سره په نزد د پروردګار ستاسی آیا نو نه پوهیږی؟ (په دی چه دښمن ته حجت ورښییئ)

**تفسیر:** د یهودانو منافقانو به د خوشامند په توګه (طور) د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم هغه خبری چه د دوی په مذهبی کتاب کښی وی، مسلمانانو ته ویلی، نورو یهودانو به دوی ملامتول چه «د خپل کتاب سند ولی د نورو په لاسو کښی ورکوئ؟ آیا تاسی په دی نه پوهیږئ چه مسلمانان به ستاسی د پروردګار په مخ کښی په هم دی خبرو پر تاسی الزام اړوی چه یهودان سره له دی چه ګرد سره آخرالزمان رسول الله صلی الله علیه وسلم پیژنی، خو بیا هم ایمان نه راوړی، نو دلته تاسی بی ځوابه کیږئ.»

أَوَلَا يَعْلَمُونَ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٧٧﴾

آیا نه پوهیږی دغه (یهودان) چه بیشکه الله عالم دی په هغه څه (کفر او نفاق) چه پټوی ئی دوی او په هغه څه (ایمان) چه ښکاره کوی ئی.

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ ته د دوی ټول ظاهری او باطنی احوال معلوم دی او د دوی د کتاب له ګردو حجتو څخه خبر ورکوی او وخت په وخت هغوی پری پوهوی، د رجم آیت اهل کتابو له مسلمانانو څخه پټ کړی ؤ خو الله تعالیٰ هغه مسلمانانو ته ورښکاره او دوی ئی رسوا کړل. دا د هغوی د پوهانو او عالمانو حال ؤ چه له تولو نه پوه او د کتاب د لوستلو مدعیان وو.

که څوک پټ کړی خپل عمل یایی ښکاره خدای خبر دی هم په پټ هم په ښکاره

وَ مِنْهُمْ اُمِّيُّوْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ الْكِتٰبَ اِلَّآ اَمَانِيَّ وَاِنْ هُمْ اِلَّا يَظُنُّوْنَ ﴿۷۸﴾

او ځینې له دغو (یهودانو) څخه آمیان دي چه نه پوهیږي په کتاب (توریت) باندې مګر خو (پوهیږي) په هیلو (آرزوګانو) د خپلو نفسونو او نه دي دوی مګر خو بې دلیله ګمان کوي.

**تفسیر:** او هغه کسان چه جاهلان دي هغوی خو په هیڅ نه پوهیږي چه په «توریت» کښې څه شي لیکل شوي دي؟ مګر په هغو څو آرزوګانو خبر دي چه له خپلو پوهانو څخه ئې په دروغو اوریدلي ده لکه چه وایي جنت ته به بې له یهودانو بل څوک نه ورننوځي زموږ پلرونه او نیکونه هرومرو (خامخا) زموږ له پاره مغفرت غواړي. دا د هغوی هسې بې اصله خیالات دي چه هیڅ دلیل ورته نه لري.

فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ يَكْتُبُوْنَ الْكِتٰبَ بِاَيْدِيْهِمْ ثُمَّ يَقُوْلُوْنَ هٰذَا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ لِيَشْتَرُوْا بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا فَوَيْلٌ لَّهُمْ مِّمَّا كَتَبَتْ اَيْدِيْهِمْ وَوَيْلٌ لَّهُمْ مِّمَّا يَكْسِبُوْنَ ﴿۷۹﴾

نو عذاب (هلاک او خرابي) دی له پاره د هغو کسانو چه لیکي کتاب (له خپله ځانه) په لاسو خپلو بیا وایي دغه (محرفین خلقو ته) چه دا (لیکل شوی) له نزده د الله دی له پاره د دې چه واخلي په دغه کتاب (اړولي) لیک قیمت لږ نو (عذاب هلاک او) خرابي ده دوی ته له سببه د هغه شي چه لیکلي دي لاسو د دوی او بیا خرابي ده دوی ته له سببه د هغه کار چه کوي ئې (چه رشوت اخیستل دي)

**تفسیر:** دا هغه کسان دي چه هغوی د عوامو جاهلانو په مذاق او خوښه سره سمې خبرې له خپل لوري جوړي او لیکي ئې او الله تعالیٰ ته ئې نسبت کوي مثلاً په «توریت» کښې لیکلي ؤ چه آخرالزمان رسول صلی الله علیه وسلم ښکلي مخ، تکې توري ګڼې ولول تاو شوي څڼې، توري سترګې، میانه قد، غنم رنګ لري.» دوی هغه خبرې واړولې او داسې ئې ولیکل چه «قد ئې اوږد، سترګې ئې شنې او څڼې ئې ساده، سمې او ځوړندې او زیږې دي» چه عوام الناس د دوی

تصديق ونه کړي او د هغوی په دنیوی منافعو کښې څه نقصان پیدا نه شي.

وَقَالُوا لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ إِلَّا أَيَّامًا مَّعْدُودَةً

او وایي دوی (یعني یهودان) هیڅیری به ونه رسیږی مونږ ته اور د (دوزخ) مګر څو ورځی شمیرلی شوی (لږی)

**تفسیر:** ځینی وایي اوه ورځی او ځینی څلویښت ورځی هومره ورځی چه دوی د خوسی (سخی) په عبادت کښې بوخت وو. او ځینی څلویښت کاله هومره وخت چه دوی د تیه په میدان کښې سرګردان وو ځینی وایي هر یوه ته دومره وخت اور رسیږی چه په دنیا کښې ئی ژوند کړی وی.

قُلْ أَتَّخَذْتُمْ عِنْدَ اللَّهِ عَهْدًا فَلَنْ يُخْلِفَ اللَّهُ عَهْدَهُ أَمْ تَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٨٠﴾

ووایه ته (ای محمده ! دوی ته) آیا اخیستی دی تاسی له نزد د الله عهد (چه عذاب به نه درکوی؟) نو له سره مخالفت نه کوی الله له عهد خپل یا وایئ (او جوړوئ) په الله هغه (دروغ) خبره چه نه پری پوهیږئ (بلکه داسی نه دی لکه چه تاسی وایئ)

**تفسیر:** یعنی دا خبره بیخی غلطه ده چه یهودان به تل په دوزخ کښې نه پاتی کیږی ځکه د «**خلودفی النار**» او د «**خلود فی الجنة**» هغه کلیه قاعده چه وروسته له دی څخه ئی بیان فرمایی له تولو سره به سم له هغی قاعدی سره معامله کیږی او یهودان له دغی عمومی قاعدی څخه نه شی وتلی.

بَلَىٰ مَنْ كَسَبَ سَيِّئَةً وَأَحَاطَتْ بِهِ خَطِيئَتُهُ

بلکه (رسیږی تاسی ته دائمی اور) هر چا چه کسب کړه بدی او چاپیره شوه پر ده ګناه د ده (چه تر مرګه پوری کفر دی)

**تفسیر:** د ګناه احاطه کول یا له چا څخنی چار چاپیر ګناه تاویدل دا معنی لری چه ګناه په هغه

داسي غلبه وکړی چه هيڅ خوا ئې داسی نه وی چه ګناه هلته انبار نه وی تر دی که يوازی د
چا په زړه کښی د ايمان او تصديق لږ اثر وی، هم ګناه په هغه احاطه نه کوی نو دا صورت
يوازی په کافرانو صادق کيدی شي او بس.

فَأُولَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٨١ وَٱلَّذِينَ
ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۖ هُمۡ
فِيهَا خَٰلِدُونَ ٨٢ وَإِذۡ أَخَذۡنَا مِيثَٰقَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ
لَا تَعۡبُدُونَ إِلَّا ٱللَّهَ وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ إِحۡسَانٗا وَذِي
ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَقُولُواْ لِلنَّاسِ
حُسۡنٗا وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ ثُمَّ
تَوَلَّيۡتُمۡ إِلَّا قَلِيلٗا مِّنكُمۡ وَأَنتُم مُّعۡرِضُونَ ٨٣

نو هم دغه کسان صاحبان د اور (د دوزخ) دی، دوی به په هغه اور (د
دوزخ) کښی تل وی او هغه کسان چه مؤمنان دی او عملونه کړی دی دوی د
نيکی هم دغه کسان صاحبان د جنت دی دوی به په هغه جنت کښی تل وی
او (ياد کړه ای محمده!) هغه وخت چه واخيست مونږ عهد محکم له بنی
اسرائيلو (اولاده د يعقوب او ووبل مونږ دوی ته) چه عبادت مه کوئ! مګر
يوازی د الله او (نيکی کوئ) سره له مور او پلار نيکی! او له خاوندانو د
خپلوی سره! او له يتيمانو (پلار مړو) سره! او له مسکينانو سره! او ووايی
خلقو ته (ښی خبری) ښايسته خبری او سم قائموئ لمونځ! (ادا کوئ ئی د
تولو مقرراتو له رعايت سره) او ورکوئ زکوة بيا وګرځيدئ تاسی (له دی
عهده) مګر (ونه ګرځيدل) لږ له تاسی څخه حال دا چه هم دا تاسی مخ
ګرځوونکی يئ (له الهی احکامو نه)

**تفسير:** يعنی د الهی احکامو څخه اعراض او مخ اړول، ستاسی عادت بلکه په طبيعت کښی داخل
شوی دی.

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ لَا تَسْفِكُونَ دِمَآءَكُمْ وَلَا تُخْرِجُونَ
أَنفُسَكُم مِّن دِيَٰرِكُمْ ثُمَّ أَقْرَرْتُمْ وَأَنتُمْ تَشْهَدُونَ ﴿٨٤﴾

او (یاد کړئ ای بنی اسرائیلو) هغه وخت چه واخیست مونږ عهد محکم له (پلرونو) ستاسی (په توریت) چه مه تویوئ وینی تاسی او مه باسئ ځانونه خپل (یعنی یو بل په ظلم سره) له کورو ستاسی بیا عهد وکړ (پلرونو) ستاسی حال دا چه تاسی شاهدان یئ.
په خپلو نفسونو په دی چه عهد تړلی ؤ پلرونو ستاسی او هم دا مو دین دی.

**تفسیر:** یعنی مه خپل قوم وژنئ او مه ئی له وطنه د باندی شړی.

ثُمَّ أَنتُمْ هَٰٓؤُلَآءِ تَقْتُلُونَ أَنفُسَكُمْ وَتُخْرِجُونَ فَرِيقًا مِّنكُم
مِّن دِيَٰرِهِمْ تَظَٰهَرُونَ عَلَيْهِم بِٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِ ط

پس (له دی عهده) تاسی هغه کسان یئ چه وژنئ ځانونه خپل (یو بل سره یا وژنئ غریبان اقربا خپل) او باسئو تاسی یوه ډله خپله (چه مغلوبه شی) له کورو د دوی شخه مرسته (مدد) کوئ یو له بل سره پر دوی باندی په گناه او ظلم

**تفسیر:** په مدینه منوره کښی د یهودانو دوی فرقی وی اوله بنی قریظه دوهمه بنی نضیر دوی یو له بل سره جنگیدلی. د مشرکانو هم هلته دوی ډلی وی. اوله (اوس) دوهمه (خزرج) دی دواړو به هم په خپلو منځو کښی شخړی (جگړی) کولی. د بنی قریظه ملگری د اوس تبر ؤ او د بنی نضیر ملگری د خزرج تبر ؤ. د جنگ او جگړی په وخت کښی هره یوه ډله د بلی موافقی ډلی مرستی (مدد) ته ورتله او د هغی اعانت او حمایت به ئی کاوه. کله به چه یوی ډلی پر بلی ډلی نصرت او بری وموند، نو هغه مغلوبه ډله به ئی له وطنه د باندی شړله او د هغو کورونه به ئی لوټل. که کوم سړی به دوی ته په دی جگړو کښی په لاس ورته او بندی کیده به، نو د هغه ملگرو به پیسی سره تولولی او بسپنه (فدیه) به ئی کوله او هغه به ئی له بنده خلاصاوه لکه چه د دی کیفیت او چاری په نسبت په لاندنی آیت کښی څه اشاره راځی.

وَإِنْ يَأْتُوكُمْ أُسَارَىٰ تُفَادُوهُمْ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ إِخْرَاجُهُمْ ۚ أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ ۚ

او كه راشي دوى تاسى ته بنديان نو فديه وركوئ تاسى د دوى په ځاى شان دا چه حرام كړى شوى دى پر تاسى ايستل د هغو ايا پس (منئ او) ايمان راوړئ تاسى پر ځينو (احكامو د) كتاب (چه فديه ده) او كافران كيږئ په ځينو نورو (احكامو د كتاب چه بى گناه وژنئ په گناه سره مرسته (مدد) كوئ د دوى مغلوبان له وطنه شړئ).

**تفسير:** يعنى كه د بل تبر او قوم په لاس كښى بندى شئ نو د هغه په خلاصولو كښى په ډيره ميړانه (بهادرى) تول سره ولاړيږئ او ملاوى ترئ، مگر په خپله د هغه د وينى د څښښلو او مرى غځولو لپاره شنه ناست يئ نو كه غواړئ چه د الله تعالىٰ په احكامو باندى عمل او تگ وكړئ ښايى چه په دواړو ځايو كښى له هغه سره معاونت او مرحمت وكړئ او د هغه له اعانت او حمايت څخه سر ونه غړوئ!.

فَمَا جَزَاءُ مَنْ يَفْعَلُ ذَٰلِكَ مِنْكُمْ إِلَّا خِزْيٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۖ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يُرَدُّونَ إِلَىٰ أَشَدِّ الْعَذَابِ ۗ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٨٥﴾

پس نه ده سزا د هغه چا چه كوى دا (كارونه) له تاسى څخه مگر خو رسوايى ده په ژوند د دنيا كښى او په ورځ د قيامت كښى گرځول كيږى دوى ډير سخت عذاب د (دوزخ) ته او نه دى الله غافل له هغه څه چه كوئ ئى تاسى (اى يهودانو!).

**تفسير:** يعنى داسى كوئ چه ځينى احكام منئ او له ځينو څخه انكار كوئ نو د دى لپاره چه د ايمان تجزيه ممكنه نه ده نو ځكه د ځينو احكامو منكر هم مطلق كافر گڼل كيږى شى او د ځينو احكامو په منلو باندى چاته هيڅ ايمان نه په برخه كيږى. له دى مبارک آيت څخه په ښكاره ډول (طريقه) معلومه شوه كه كوم سړى ځينى شرعى احكام منى او په متابعت كښى ئى بوخت وى مگر د ځينو هغو احكامو له منلو څخه چه د ده له طبيعت يا عادت يا مقاصدو څخه مخالف وى

انکار کوی نو د هغو ځینو احکامو متابعت ده ته څه فائده نه شی رسولی.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الْحَيَاةَ الدُّنْيَا بِالْآخِرَةِ ۖ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْصَرُونَ ﴿٨٦﴾

دا هغه کسان دی چه آخستی دی دوی ژوند د دنیا په (بی انتها نعمتو د) آخرت سپک به نه کړی شی له دوی څخه (دنیوی او اخروی) عذاب او نه به له دوی سره مرسته (مدد) وکړه شی (په دفع د عذاب کښی).

**تفسیر:** یعنی دنیوی ګټه (فائده) ئی د آخرت په مقابل کښی غوره کړه او هغه ئی په دغه بدله کړه، نو له کومو خلقو سره ئی چه تعهد کړی ؤ هغه ئی د دنیوی ګټی له پاره پای (آخر) ته ورساوه او د الله تعالیٰ د احکامو ئی څه پروا ونه کړه، نو د داسی کسانو حمایت او سپارښتنه به د الله تعالیٰ په دربار کښی څوک وکړی شی.

وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ وَقَفَّيْنَا مِنْ بَعْدِهِ بِالرُّسُلِ ۖ وَآتَيْنَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنَاتِ وَأَيَّدْنَاهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ ۗ

او خامخا، بیشکه ورکړی وو مونږ موسیٰ ته کتاب (توریت) او پر له پسی استولی وو مونږ پس له موسیٰ نور رسولان (لکه یوشع، داؤد، سلیمان، یحییٰ او زکریا) او ورکړی وی مونږ عیسیٰ زوی د مریمی ته (معجزی) ښکاره او قوی کړی وو مونږ عیسیٰ په روح پاک سره (چه جبریل یا انجیل یا اسم اعظم یا عیسوی روح دی).

**تفسیر:** د مړی ژوندی کول ـ د اکمه او ابرص او د نورو رنځورانو روغول ـ او د پټو خبرو ښوول، د عیسیٰ علیه السلام له ښکاره ؤ معجزو څخه دی له «روح القدس» څخه به حضرت جبرئیل علیه السلام مراد وی چه تل به له مسیح علیه السلام سره ؤ یا به «اسم اعظم» وی چه د هغه په برکت به ئی مړی ژوندی کول.

أَفَكُلَّمَا جَاءَكُمْ رَسُولٌ بِمَا لَا تَهْوَىٰ أَنفُسُكُمُ اسْتَكْبَرْتُمْ فَفَرِيقًا كَذَّبْتُمْ

آيا نو هر كله چه را به غى تاسى ته كوم رسول په هغو احكامو سره چه نه به خوښول نفسونو د تاسى نو تكبر (لوئى) كوله تاسى (له منلو د هغو احكامو) نو د انبياؤ يوه ډله مو دروغجنه وبلله تاسى (لكه محمد، عيسىٰ او موسىٰ)

**تفسير:** لكه چه دوى «حضرت محمد رسول الله ـ حضرت عيسىٰ روح الله او حضرت موسىٰ كليم الله عليهم الصلوٰة والسلام دروغجن وبلل».

وَفَرِيقًا تَقْتُلُونَ ﴿٨٧﴾

او بله ډله (د انبياؤ) ووژله تاسى (لكه زكريا، يحيىٰ او شعيب).

**تفسير:** لكه چه دوى «حضرت زكريا، يحيىٰ او شعيب عليهم السلام ووژل.»

وَقَالُوا قُلُوبُنَا غُلْفٌ بَل لَّعَنَهُمُ اللَّهُ بِكُفْرِهِمْ فَقَلِيلًا مَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾

او وايي (تمسخراً) زړونه مو په پردو كښې دى (وينا پرى اثر نه كوى داسى نه ده) بلكه لعنت كړى دى پر دوى الله په سبب د كفر د دوى نو ډير لږ (له دوى ځنى) ايمان راوړى.

**تفسير:** يهودانو د خپلو نفسونو د ستايلو په وخت كښې داسى ويل چه زمونږ زړونه په غلافو او كڅوړو كښې ساتلى شوى دى او پرته (علاوه) زمونږ له خپل دين څخه بل كوم دين پكښې نشى ننوتلى او نه بله كومه خبره څه اثر ورباندى اچولى شى مونږ د بل چا په چاپلوسى، سحر بيانى او كرشمى نه غوليږو او نه ئى تابعدارى كولى شو حق تعالىٰ فرمايي «دوى بيخى دروغ ويونكى دى» ځكه چه دوى د خپل كفر په سبب د الله تعالىٰ له خوا ملعون او د ده له رحمته شړلى شوى دى نو له دى امله (وجى) په هيڅ ډول (طريقه) د حق دين منونكى نه دى او له دوى څخه ډير لږ كسان د ايمان په دولت مشرف كيږى.

وَلَمَّا جَآءَهُمْ كِتٰبٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ ۙ
وَكَانُوْا مِنْ قَبْلُ يَسْتَفْتِحُوْنَ عَلَى الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۚ فَلَمَّا
جَآءَهُمْ مَّا عَرَفُوْا كَفَرُوْا بِهٖ ۫ فَلَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿٨٩﴾

او هر کله چه راغی دوی ته (اهل کتابو ته) کتاب (قرآن) له نزده د الله چه مصدق دی د هغه کتاب چه له دوی سره دی حال دا چه وو دوی پخوا له دی چه فتح به ئی غوښته (له الله په قرآن او محمد سره) په هغو کسانو چه کافران وو نو کله چه راغی دوی ته هغه رسول چه پیژندلی ؤ دوی (هغه رسول د توریت په ستایلو سره) کافران شول پری نو لعنت د الله دی په کافرانو (چه حق ئی پټ او باطل ئی ښرګند کړ).

**تفسیر:** هغه کتاب چه نازل شوی دی قرآن دی او هغه کتاب چه له دوی سره پخوا له دی نه موجود ؤ (توریت) دی د عظیم الشان قرآن له نزوله پخوا کله به چه یهودان د کافرانو په مقابل کښې مغلوبیدل نو دعا به ئی کوله او ویل به ئی ای خدایه! د آخرالزمان نبی صلی الله علیه وسلم او د هغه پاک قرآن په برکت چه پر ده به نازلیږی، مونږ ته په کافرانو بری او فتح راکړه، کله چه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم مبعوث شو او د هغه د رسالت تولی نښې ئی ولیدلی نو تری منکر او ملعون شول.

بِئْسَمَا اشْتَرَوْا بِهٖٓ اَنْفُسَهُمْ اَنْ يَّكْفُرُوْا بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ بَغْيًا
اَنْ يُّنَزِّلَ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ۚ

بد دی هغه څه چه پلورلی (خرخ کړی) دی دوی په هغه سره ځانونه خپل (او هغه دا دی) چه کافران کیږی په هغه قرآن چه نازل کړی دی الله (دا کفر) په سبب د دی حسد او کینی دی چه (ولی) نازلوی الله له فضله خپله په هغه چا چه اراده وکړی له بندګانو خپلو

**تفسیر:** یعنی هغه شی چه دوی د هغه په بدل کښې خپل ځانونه پلوری (خرڅوی) هغه د سپیڅلی

پاک قرآن په مقابل کښې د کفر او انکار غوره کول دی حال دا چه د دوی دا کفر او انکار هم يوازی د دوی له ضد ـ کينې او حسد نه پيدا شوی دی.

فَبَآءُوْ بِغَضَبٍ عَلٰى غَضَبٍ ؕ

نو اخته شول په يوه غضب (چه کفر دی په محمد او قرآن) د پاسه د بل غضب (چه کفر دی په عيسىٰ او انجيل).

**تفسير:** يعنی يو غضب دا چه نه يوازی په قرآن، بلکه په خپل کتاب هم سره کافران او منکران شول. او بل غضب دا چه يوازی د حسد او ضد له امله (وجی) ئی د هغه وخت له رسول سره مخالفت وکړ او ورځنی وګرځيدل.

وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿٩٠﴾

او (مقرر) دی لپاره د کافرانو عذاب سپکوونکی.

**تفسير:** له دی ځخه معلوميږی چه هر عذاب د ذلت له پاره نه وی بلکه هغه عذاب چه مسلمانانو ته ورکول کيږی، هغه د دوی د ګناهونو له امله (وجی) دی چه تری پاک شی، نه د سپکتيا او تذليل له پاره يوازی هغه عذاب چه کفارو ته ورکول کيږی هغه د تذليل عذاب دی.

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ اٰمِنُوْا بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوْا نُؤْمِنُ بِمَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا وَيَكْفُرُوْنَ بِمَا وَرَآءَهٗ ۗ وَهُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَهُمْ ؕ

او کله چه وويل شی دوی ته چه ايمان راوړئ په هغو (کتابو) چه نازل کړی دی الله وايی دوی ايمان راوړو مونږ په هغه (کتاب) چه نازل کړی شوی دی پر مونږ (يعنی تورات) حال دا چه کافران کيږی په هغه کتاب چه بې له هغه دی يعنی (انجيل او قرآن) حال دا چه دا (نور کتابونه هم) حق دی مصدق دی د هغه کتاب چه له دوی سره دی (چه د الله تعالىٰ له خوا نازل شوی دی)

**تفسير:** هغه کتاب چه بې له هغه دی يعنی «انجيل» او «قرآن» او هغه چه نازل شوی دی پر

مونږ یعنی «توریت» مطلب دا چه پرته (علاوه) له «توریت» څخه له نورو کتابو څخه په ښکاره ډول (طریقه) منکران دی «د قرآن» او «انجیل» منونکی نه دی. حال دا چه دا کتابونه هم رښتیا حق او د «توریت» تصدیق کوونکی دی.

قُلْ فَلِمَ تَقْتُلُوْنَ اَنْۢبِيَآءَ اللّٰهِ مِنْ قَبْلُ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۹۱﴾

ووایه (ای محمده! دغو یهودانو ته) نو ولی به وژل تاسی انبیاء د الله (لکه شعیب زکریا او یحییٰ) پخوا (له دی څخه) که چیری وئ تاسی ایمان راوړونکی (په توریت).

**تفسیر:** یعنی یهودانو ته ووایه «که تاسی په توریت ایمان لرونکی یئ نو بیا مو ولی انبیاء ووژل؟ ځکه چه په «توریت» کښی داسی حکم شته ـ هر هغه نبی چه د «توریت» تصدیق وکړی، تاسی له هغه سره مرسته (مدد) وکړئ او خامخا ورباندی ایمان راوړئ!» او هغه انبیاء مو وژلی دی چه پخوا له دی څخه تیر شوی دی لکه حضرت زکریا او حضرت یحییٰ علیهما السلام چه د (توریت) په احکامو ئی عمل کاوه او د (توریت) د ترویج او تاکید له پاره رالیږل شوی وو. په دی خبره کښی هیڅ ناپوه ته کومه اندیښنه او شک نه پیدا کیږی چه دی پیغمبرانو د توریت تصدیق کاوه.

وَلَقَدْ جَآءَكُمْ مُّوْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِنْۢ بَعْدِهٖ وَاَنْتُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿۹۲﴾

او خامخا په تحقیق سره راوړی وی تاسی ته موسیٰ ښکاره (معجزی) بیا ونیوه تاسی خوسی (سخی) (په خدایی سره) پس د تللو د موسیٰ (د طور غره ته) حال دا چه تاسی وئ ظالمان (پر ځانو خپلو په دی معبود نیولو د خوسی)

**تفسیر:** یعنی په خپله حضرت موسیٰ علیه السلام چه تاسی د هغه په شریعت باندی قائم یئ او د هغه شریعت له امله (وجی) د نورو شرائعو او حقه ؤ ادیانو څخه انکار کوئ تاسو ته ئی ډیری ښکاره نښی او معجزی دروښودی لکه همساء، یدبیضاء، د سیند څیرول او نور مگر کله چه موسیٰ علیه السلام د څو ورځو له پاره د طور غره ته لاړ نو تاسی د هغه په غیاب کښی خوسی (سخی) خپل معبود وتاکه (مقرر که)، حال دا چه موسیٰ علیه السلام ژوندی او د نبوت خاوند ؤ، نو په هغه وخت کښی پر موسیٰ علیه السلام او د هغه په شریعت ستاسی ایمان چیری ؤ چه نن

د آخرالزمان رسول صلی الله علیه وسلم د بغض، حسد له امله (وجی) تاسی موسوی شریعت داسی تینګ نیولی دی چه د الله تعالیٰ احکامو ته هم غوږ نه ږدی، بیشکه چه تاسی ظالمان یئ او ستاسی پلرونه او نیکه ګان هم ظالمان وو دا ؤ د بنی اسرائیلو احوال د حضرت موسیٰ علیه السلام سره وروسته له دی د (توریت) په نسبت د هغوی د ایمان حالت بیانوی

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّورَ خُذُوا مَا آتَيْنَاكُم بِقُوَّةٍ وَاسْمَعُوا ۖ قَالُوا سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا وَأُشْرِبُوا فِي قُلُوبِهِمُ الْعِجْلَ بِكُفْرِهِمْ ۚ

او (یاد کړئ!) هغه وخت چه واخیست مونږ عهد محکم د تاسی (په منلو د توریت) او پورته کړ مونږ پاس په (سرو) د تاسی د طور (غر) واخلئ هغه (احکام) چه درکړی دی مونږ تاسی ته په ښه کوښښ او واورئ (په تدبر سره) وویل (یهودانو) اوریدلی ده مونږ (ستا خبره) او نه دی منلی مونږ (ستا حکم) او ورڅښلی (څکلی) شوی وه په زړونو د دوی کښی (مینه د) خوسی (سخی) په سبب د کفر د دوی

**تفسیر:** یعنی د توریت د احکامو په نسبت چه کوم احکام درکړی شوی دی هغه په پوره همت او استقلال سره تینګ ونیسئ! څرنګه چه غر مو په سر څوړند ؤ، نو د خپل ځان له ویری خو مو تش په ژبه یا په هغه وخت کښی وویل ﴿سَمِعْنَا﴾ یعنی د (توریت) احکام مو واوریدل. او په زړه کښی یا وروسته له هغه مو ویل ﴿عَصَيْنَا﴾ یعنی هغه احکام مو ونه منل. د دی غاړه غړولو بله وجه دا وه چه د صورت خوښولو او ښکاره کتلو مینی د هغوی په زړونو کښی کلک ځای نیولی ؤ او د دوی د کفر له سببه هغه زنګ چه د هغوی په زړونو کښی ؤ، لا داسی تینګ شو چه بیرته کیدو ئی هیڅ امکان نه درلود (لرلو) بلکه ورځ په ورځ لا پسی زیاتیده.

قُلْ بِئْسَمَا يَأْمُرُكُم بِهِ إِيمَانُكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٩٣﴾ قُلْ إِن كَانَتْ لَكُمُ الدَّارُ الْآخِرَةُ عِندَ اللَّهِ خَالِصَةً مِّن دُونِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٩٤﴾

ووايه (اى محمده ! دوى ته) بد دى هغه شي چه امر كوى تاسي ته په هغه (چه كفر دى په محمد او قرآن) ايمان ستاسي كه چيرى يئ تاسي ايمان راوړونكي. ووايه (اى محمده ! دوى ته) كه چيرى وى تاسي ته دار آخرتي په نزد د الله په خلوص (او خصوص سره يوازى) بى له (نورو) خلقو نو هيله (تمنا) وكړئ د مرگ كه چيرى يئ تاسي صادقان (په دعوى د خالصوالى د جنت كښي خپلو ځانو ته).

---

**تفسير:** يهودانو به ويل «پرته (علاوه) له مونږ نه به په جنت كښي بل هيڅ څوک نه داخليږى او مونږ ته هيڅ يو رېر (تكليف) او عذاب نشته» الله تعالىٰ فرمايي كه په رښتيا سره تاسي جنتيان يئ نو له مرينى څخه ولي ويريږى؟»

څوک چه شميرى ځان رښتيا اهل د جنت ▪ خوښ به ئى نه وى دنيا يئ چرچي راحت
دا كسان چه په دنيا كښي بى پروا دى ▪ دوى هرگوره په عقبى وينى زحمت

---

وَلَن يَتَمَنَّوْهُ أَبَدًا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ ﴿٩٥﴾ وَلَتَجِدَنَّهُمْ أَحْرَصَ النَّاسِ عَلَىٰ حَيَاةٍ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا ۚ يَوَدُّ أَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ أَلْفَ سَنَةٍ وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهِ مِنَ الْعَذَابِ أَن يُعَمَّرَ ۗ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿٩٦﴾

---

او له سره به هيله (اميد) ونه كړى د مرگ هيڅ كله په سبب د هغو عملونو چه وړاندى ليږلي دى لاسونو د دوى (لكه د انبياؤ او نورو قتل او تكذيب) او الله ښه عالم دى په (احوالو) د ظالمانو او خامخا به مومى ته هرومرو (خامخا) دوى ډير حرصناک د خلقو نه په ژوندانه باندى او (ډير حارصان) له هغو كسانو ځنى (هم) چه مشركان دى، خوښوى هر يو د هغوى (يهودانو) كه عمر ورکړ شى (او اوږد شي عمر ئى) زر كاله، او نه دى دا كس خلاصوونكى د ده له عذابه دا چه ډير عمر ورکړ شي او الله ښه ليدونكى (عالم) دى په هر څه چه دوى (ئى) كوى.

**تفسير:** یعنی یهودانو داسې خراب کارونه کړي دي چه له مرګه ډیر لرې تښتي او ویریږي چه وروسته له مړینې مونږ ته هیڅ یوه ګټه (فائده) نه رسیږي تر دې حده پورې چه له مشرکانو څخه هم دوی ډیر په ژوندي پاتې کیدلو باندې حریصان دي. په دې سره د هغوی د دعوی تغلیط په ښه دول (طریقه) سره وشو.

قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيلَ فَإِنَّهُ نَزَّلَهُ
عَلَىٰ قَلْبِكَ بِإِذْنِ اللَّهِ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَهُدًى
وَبُشْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿٩٧﴾ مَن كَانَ عَدُوًّا لِّلَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَ
رُسُلِهِ وَجِبْرِيلَ وَمِيكَالَ فَإِنَّ اللَّهَ عَدُوٌّ لِّلْكَافِرِينَ ﴿٩٨﴾

ووایه (ای محمده! دوی ته) هر څوک چه وي دښمن د جبریل (نو دوی مرې له قهره!) ځکه بیشکه هغه (جبریل) نازل کړی دی قرآن په زړه ستا په اذن (او حکم) د الله حال دا چه مصدق دی (دا کتاب) د هغو کتابونو چه پخوا له ده دي (لکه توریت او انجیل) او لارښوونکې دی او زیرې ورکوونکې دی مؤمنانو ته (په جنت او د الله په لقاء سره) هر څوک چه وي دښمن د الله او د ملائکو د ده او د رسولانو د ده او (خصوصاً) د جبریل او د میکائیل پس بیشکه الله دښمن دی له پاره د کافرانو.

**تفسير:** یهودانو به ویل «هغه پرښته جبرئیل علیه السلام چه پر (حضرت محمد صلی الله علیه وسلم) باندې وحی راوړي له مونږ سره دښمني لري او زمونږ پلرونو ته د ده له لاسه لوی ربړونه (تکلیفونو) پېښ شوي دي که پرته (علاوه) له جبرئیل علیه السلام بلې کومې پرښتې دوی ته وحی راوړې وی، نو مونږ به په (محمد صلی الله علیه وسلم) ایمان راوړی وی» نو د دوی د دې وینا په نسبت الله تعالیٰ داسې فرمایي «ګردې پرښتې همغه شیان کوي چه د پاک الله له لوري دوی پرې ماموري شوي وي او له خپله ځانه هیڅ شی نه کوي نو هغه کسان چه له دوی سره دښمني کوي بیشکه چه الله تعالیٰ د هغوی دښمن دی».

وَلَقَدْ أَنزَلْنَا إِلَيْكَ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ ۖ وَمَا يَكْفُرُ بِهَا إِلَّا

الْفٰسِقُوْنَ ﴿٩٩﴾ اَوَكُلَّمَا عٰهَدُوْا عَهْدًا نَّبَذَهٗ فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ
بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿١٠٠﴾

او هرومرو (خامخا) په تحقیق نازل کړی دی مونږ تاته آیتونه روښانه او نه کافران کیږی په دی باندی مګر فاسقان (چه د الله له فرمانه وتونکی دی). آیا هر کله چه وبه کاوه دوی یو عهد نو غورځاوه (هیراوه او ماتوه) دا عهد یوی ډلی له دوی څخه بلکه اکثره د دوی ایمان نه راوړی (په مؤمن به شیانو).

**تفسیر:** یعنی دا د هغوی پخوانی عادت دی کله چه دوی له الله تعالیٰ یا رسول الله صلی الله علیه وسلم یا له بل چا سره عهد او پیمان وتړی، نو بیا یوه ډله له دوی څخه له هغه عهد نه سترګی پټوی او تر شایی غورځوی بلکه ډیر داسی یهودان هم شته چه په «توریت» باندی ئی هم لا ایمان نه دی راوړی نو داسی کسانو ته عهد ماتول او په خپلو خبرو باندی نه دریدل، کومه سخته خبره نه ده.

وَلَمَّا جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ نَبَذَ فَرِيْقٌ مِّنَ
الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ كِتٰبَ اللّٰهِ وَرَآءَ ظُهُوْرِهِمْ كَاَنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿١٠١﴾

او هر کله چه راغی دوی ته رسول (محمد) له طرفه د الله چه مصدق دی د هغه کتاب (توریت) چه له دوی سره دی نو وغورځاوه یوی ډلی له هغو کسانو چه ورکړی شوی دی دوی ته کتاب، کتاب د الله لره وروسته د شاوو د دوی (او هیڅ عمل ئی پری ونه کړ) لکه چه دوی نه پوهیږی (چه دغه کتاب او رسول له جانبه د الله راغلی دی یا په هغه کښی څه صفت دی د محمد).

**تفسیر:** له «رسول» څخه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم مراد دی او له «مامعهم» څنی مطلب «توریت» او له «کتاب الله» نه مقصد هم دا «توریت» دی، یعنی کله چه رسول الله صلی الله علیه وعلی اله واصحابه وسلم تشریف راوړ، نو دوی د«توریت» او نورو آسمانی کتابونو تصدیق کوونکی ؤ. نو د یهودانو یوی ډلی په خپله «توریت» خپلو شاوو ته داسی وغورځاوه لکه چه

بیخی ئی نه وی لیدلی او هیخ ورنه خبر نه وی چه آیا هغه هم کوم کتاب دی که نه؟ او څه اوامر او نواهی هم پکښی شته که نه؟ کله چه دوی په خپل کتاب عقیده او ایمان نه لری، نو له هغوی څخنی د نورو الهٰی احکامو په نسبت څه امید کول په کار دی؟

---

وَاتَّبَعُوا مَا تَتْلُوا الشَّيٰطِيْنُ عَلٰى مُلْكِ سُلَيْمٰنَ ۚ وَمَا
كَفَرَ سُلَيْمٰنُ وَلٰكِنَّ الشَّيٰطِيْنَ كَفَرُوْا يُعَلِّمُوْنَ النَّاسَ
السِّحْرَ ۗ وَمَآ اُنْزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَارُوْتَ وَمَارُوْتَ ؕ
وَمَا يُعَلِّمٰنِ مِنْ اَحَدٍ حَتّٰى يَقُوْلَآ اِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا
تَكْفُرْ ؕ فَيَتَعَلَّمُوْنَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُوْنَ بِهٖ بَيْنَ الْمَرْءِ وَ
زَوْجِهٖ ؕ وَمَا هُمْ بِضَآرِّيْنَ بِهٖ مِنْ اَحَدٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ
وَيَتَعَلَّمُوْنَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ ؕ وَلَقَدْ عَلِمُوْا
لَمَنِ اشْتَرٰىهُ مَا لَهٗ فِى الْاٰخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ ۗ وَلَبِئْسَ
مَا شَرَوْا بِهٖٓ اَنْفُسَهُمْ ؕ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۰۲﴾ وَلَوْ اَنَّهُمْ
اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَمَثُوْبَةٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ خَيْرٌ ؕ لَوْ كَانُوْا
يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۰۳﴾ ع

---

او متابعت وکړ یهودانو د هغه څه چه لوست به شیطانانو (پیریانو) په (زمانه د) باچاهی د سلیمان کښی (چه دی احمقانو کتاب الله تر شا وغورځاوه او سحر ئی زده او په متابعت ئی لګیا شول) او نه ؤ کافر شوی سلیمان (د سحر د عمل په تحلیل سره) ولیکن شیطانان کافران شوی وو حال دا چه ښود به ئی خلقو ته سحر او (متابعت به ئی کاوه) د هغه شی چه نازل کړی شوی ؤ په دوو پرښتو په (ښار د) بابل کښی (چه نوم د یوی) هاروت او (د بلی) ماروت (دی)؛ او نه به کوله ښودنه دوی دواړو هیچا ته تر هغه پوری چه وبه ویل دواړو بیشکه هم دا خبره ده چه مونږ آزموینه (ازمیښت) یو (له جانبه د الله) نو مه کافر کیږه (په زده کولو د سحر چه د عمل پر جواز ئی معتقد

اوسی) نو زده کاوه به هغوی له دوی دواړو نه هغه شی چه بیلتون به ئی
کاوه په هغه سره په منځ د میړه (خاوند) او ښځی د هغه کښې؛ او نه وو
دوی ضرر رسوونکی په دغه سحر سره هیچا ته مګر په اذن (حکم) د الله
سره؛ او زده کوی دوی (یعنی یهودان) هغه څه چه ضرر رسوی دوی ته او نفع
نه رسوی دوی ته؛ او هرومرو (خامخا) په تحقیق پوهیدل دوی چه خامخا هغه
څوک چه پیری (اخلی) (زده کوی په اعتقاد د جواز) سحر نشته ده لره په
آخرت کښې هیڅ برخه (د نیکی)؛ او هرومرو (خامخا) ډیر بد دی هغه
شی چه پلورلی (اخستی) دی دوی په هغه شی سره (حصه د) ځانو خپلو که
چیری وی دوی چه پوهیدلی (په بد انجام د سحر نو نه به ئی زده کاوه). او
که په تحقیق دوی ایمان راوړی وی او پرهیز ئی کړی وی (له سحره او له
یهودیته) نو هرومرو (خامخا) ثواب له طرفه د الله څخه ډیر غوره دی (له دی
سحر او رشوت د توریت په تحریف)
که وی دوی چه پوهیدلی (په بهتری د«توریت» نو سحر به ئی نه زده کاوه او
له پاک الله څنی به ویریدل او له مناهیو به لری ګرځیدل).

---

**تفسیر:** لنده ئی دا چه یهودانو دین او کتاب پریښود او د سحر - جادو او کوډو تابع شول. او جادو له دوو خواؤ په خلقو کښې خپور (خور) شو.

(۱): د حضرت سلیمان علیه السلام په زمانه کښې په دی سبب چه پیریانو او انسانانو ناسته او ولاړه سره درلوده، (لرله) نو بنیادمانو له شیطانانو څخنی کوډی زده کولی او دا به ئی حضرت سلیمان علیه السلام ته منسوبولی چه دا کوډی مونږ ته له ده څخنی رارسیدلی دی او ده د هم دی کوډو په زور پر خلقو حکمونه چلول. نو ځکه الله تعالیٰ فرمایی چه «دا کار کفر دی او د سلیمان نه دی».

(۲): د (هاروت) او (ماروت) له پلوه (طرفه) ئی تعمیم وموند چه دا دوی پرښتی د (بابل) په ښار کښې د بنیادمانو په صورت اوسیدلی او دوی ته د سحر او جادو علم ښه معلوم ؤ. د سحر هر طالب به چه دوی ته ورته، نو دوی به هغه ته نصیحت کاوه چه «سحر مه زده کوه! چه د سحر د جائز ګڼلو له امله (وجی) سړی کافر او ایمان ته ئی زوال وررسیږی» که سره له دغه نصیحته به دا د سحر طالب د سحر له زده کولو څخه لاس نه آخیست، نو ئی ورښود. پاک الله د هاروت او ماروت) په ذریعه د خپلو بندګانو آزموینه کوله. نو ځکه فرمایی چه له هسی علومو څخنی آخرت ته هیڅ یوه ګټه (فائده) نه رسیږی، بلکه ډیر نقصان رسوونکی دی او په دنیا او آخرت کښې پرته (علاوه) له نقصانه بل څه ګټه (فائده) په لاس نه تری راځی او بی د الله تعالیٰ له حکم او ارادی هیڅ اثر نه پری مرتبیږی که دوی د دین علم او د کتاب علم زده کاوه، نو د دواړو دارینو اجر او ثواب به ئی په برخه کیده کله چه دین او کتاب ئی پریښود ﴿خَیۡرَ الدُّنۡیَا وَالۡاٰخِرَةِ﴾

شول.

چه په سود او په خپل زيان څوک نه پوهيږي ▪ هغه کله خپل مقصود وته رسيږي

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقُولُواْ رَٰعِنَا وَقُولُواْ ٱنظُرْنَا وَٱسْمَعُواْۗ وَلِلْكَٰفِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٠٤﴾

اى هغو كسانو چه ايمان ئى راوړى دى (يعني اى مؤمنانو) مه وايئ تاسى (لفظ د) راعنا (رسول الله ته) او ووايئ (په ځاى د راعنا لفظ د) انظرنا او واورئ تاسى (حق د زړه په غوږو). او شته دى لپاره د كافرانو عذاب دردناک (د دوزخ).

**تفسير:** يهودان به د رسول الله مبارک په مجلس کښې کيناستل او د دوى خبرى به ئى اوريدلى، په ځينو خبرو به چه ښه نه پوهيدل، يا به ئى نه اوريدلى؛ د هغو تحقيق به ئى بيا په تكرار سره كاوه او ويل به ئى «راعنا» يعني زمونږ په لورى توجه وفرمايئ! او رعايت مو وکړئ! د دى كلمى د اوريدلو په اثر به كله كله مسلمانانو هم داسى ويل. نو پاک الله منع كوى چه داسى مه وايئ! اوكه وايئ هم نو﴿انظُرْنَا﴾ ووايئ! چه د هغه معنى هم همغه ده او د خبرو د شروع څخه پوره متوجه اوسئ! چه بيا پوښتنى ته اړ (محتاج) نه شئ! يهودانو دا خبره د فريب او بدنيتى له امله (وجى) ويله او دا كلمه به ئى په داسى ژوولى ژبه ادا كوله چه د «راعينا» تورى به هم ترى خوت چه معنى ئى اى زمونږ شپونه! ده برسيره په دى د يهودانو په نزد﴿رَٰعِنَا﴾د احمق او ناپوه معنى هم وركوى.

مَّا يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ وَلَا ٱلْمُشْرِكِينَ أَن يُنَزَّلَ عَلَيْكُم مِّنْ خَيْرٍ مِّن رَّبِّكُمْۗ وَٱللَّهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِۦ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ ﴿١٠٥﴾

نه خوښوى (دوست نه ګڼى) هغه كسان چه كافران شوى دى له اهل كتابو څخه او (نه) له مشركانو څخه دا (خبره) چه نازله كړه شي پر تاسى كومه ښه خبره (لكه وحى، نصرت) له ربه ستاسى (د حسد او رخى (كينى) له

مخی) او الله خاصوی په رحمت خپل سره هغه څوک چه اراده (ئی) وکړی (د تخصیص په رحمت سره) او الله څښتن (خاوند) د فضل ډیر لوی دی.

**تفسیر:** یعنی کفار یهودان دی که د مکی مشرکان په دی نه دی خوشال چه پاک قرآن په تاسی باندی نازل شوی دی. بلکه یهودانو داسی غوښتل او هیله (امید) ئی درلوده (لرلو) چه وروستی نبی صلی الله علیه وسلم په (بنی اسرائیلو) کښی مبعوث شی. او د مکی د مشرکانو خوښه دا وه چه د دوی له تبره دی وی. مګر دا خو د الله تعالیٰ لوی فضل او مرحمت دی چه وروستی نبی صلی الله علیه وسلم ئی د تاسی د امیانو په تبر کښی پیدا کړ.

مَا نَنۡسَخۡ مِنۡ اٰيَةٍ اَوۡ نُنۡسِهَا نَاۡتِ بِخَيۡرٍ مِّنۡهَاۤ اَوۡ مِثۡلِهَا ؕ اَلَمۡ تَعۡلَمۡ اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ قَدِيۡرٌ ﴿۱۰۶﴾

هغه چه منسوخ کوو مونږ له کوم آیته یا هیروو ئی (له زړونو) د مؤمنانو څخه نو راليږو بهتر له هغه (پخوانی څخه په سهولت او کثرت د اجر کښی) یا په مثل د هغه (په تکلیف او ثواب کښی)؛ آیا نه پوهیږی ته چه بیشکه الله په هر څه ښه قادر دی (نو رالیږی بهتر له منسوخه یا د هغه په مثل).

**تفسیر:** دا هم د یهودانو پیغور دی کله چه ستاسی په کتاب کښی ځینی آیتونه منسوخ کیږی نو وایی که دا کتاب په رښتیا د پاک الله له لوری وی، نو کله چه الله تعالیٰ د هغی نسخی له سببه چه مونږ او تاسی اوس پری خبریږو لا له پخوا څخه خبر ؤ نو ولی به ئی یو داسی آیت لیږه؟ نو الله تعالیٰ فرمایی چه نه په لمړنی خبره کښی څه عیب ؤ او نه په وروستی خبره کښی کوم عیب شته، خو ﴿ اَحۡكَمُ الۡحٰكِمِيۡنَ ﴾ د وخت په تناسب اول هغه حکم مناسب وګانه. او بیا ئی دغه حکم لازم وباله (وګڼه).

اَلَمۡ تَعۡلَمۡ اَنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلۡكُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ وَمَا لَكُمۡ مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ مِنۡ وَّلِىٍّ وَّلَا نَصِيۡرٍ ﴿۱۰۷﴾

آیا نه پوهیږی ته چه بیشکه الله (چه دی) هم ده لره دی سلطنت (او باچاهی) د آسمانو او د ځمکی (سره له آسمانو او ځمکی او مافیهما ملكاً

خلقاً وعبيداً) او نشته تاسی ته غیر له الله نه هیڅ دوست (چه ومو ساتی له بلیاتو) او نه مددګار (چه له نازله عذاب مو خلاص کړی)

**تفسیر:** یعنی دلته خو د الله تعالیٰ قدرت او ملکیت په ګردو (تولو) باندی شامل دی او هلته په خپلو بندګانو اعلیٰ درجه عنایت او مرحمت لری، نو اوس د بندګانو په منافعو او مصالحو باندی غیر د ده له ذاته بل څوک پوهیدی شی او څوک د ده په اندازه بندګانو ته منافع او ښیګنی (نفعی) رسولی شی؟

أَمْ تُرِيدُونَ أَن تَسْأَلُوا رَسُولَكُمْ كَمَا سُئِلَ مُوسَىٰ مِن قَبْلُ ۗ وَمَن يَتَبَدَّلِ الْكُفْرَ بِالْإِيمَانِ فَقَدْ ضَلَّ سَوَاءَ السَّبِيلِ ﴿١٠٨﴾

آیا اراده لرئ تاسی چه سوال وکړئ له رسول خپله (محمد څخه) لکه چه سوال کړی شوی ؤ له موسیٰ څخه پخوا له دی (په راز راز (قسم قسم) نامناسبو طریقو) او هر څوک چه بدلوی (او غوره کوی) کفر په ایمان (چه ایمان ورکوی او کفر آخلی) نو په تحقیق ورکه ئی کړه سمه لار (او له حقی لاری څخه چپ او بی لاری شو).

**تفسیر:** یعنی د یهودانو په خبره باندی له سره باور او اعتماد مه کوئ؟ هر چا ته چه د یهودانو د شبهی او تردد اچولو له امله (وجی) څه شک او شبهه پیدا شوی وی. هغه کافر دی له دی کار څخه خپل ځانونه وژغورئ! (وساتی) او د یهودانو په وینا تاسی د خپل نبی په نسبت هیڅ شک او شبهه مه کوئ! لکه چه دوی به د خپلو انبیاؤ په نسبت هسی شبهی کولی.

وَدَّ كَثِيرٌ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ يَرُدُّونَكُم مِّن بَعْدِ إِيمَانِكُمْ كُفَّارًا حَسَدًا مِّنْ عِندِ أَنفُسِهِم مِّن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْحَقُّ ۖ

خوښوی (او دوست ګنی) ډیر له اهل د کتاب څخه (دا) چه وګرځوی دوی تاسی پس له ایمان راوړلو ستاسی کافران د حسد (له سببه) چه له (خبیثو) نفسونو د دوی (پیدا شوی) دی (نه له بل سببه) وروسته له هغه چه ښکاره شو دوی ته حق (چه رسول قرآن او د اسلام دین دی).

**تفسیر:** یعني دیر یهودان دا هیله (امید) او آرزو لري څو به هر ډول (هر قسم) چه وکولی شي تاسي له مسلماني څخني واړوي او په کفر او نفاق کښي مو داخل کړي. حال دا چه دوی ته دا خبره ښه ښکاره ده چه د مسلمانانو دین، قرآن او وروستی نبی صلی الله علیه وسلم ټول حق او رښتیا دي.

فَاعْفُوا وَاصْفَحُوا حَتّٰى يَأْتِيَ اللّٰهُ بِأَمْرِهٖ ؕ

نو عفو وکړئ! (دوی ته او جهاد مه کوئ) او مخ تري وګرځوئ! (او جزا مه ورکوئ!) تر هغه پوري چه راولیږي الله امر خپل (په جهاد د دوی یا په جزیه اخیستلو له دوی نه)؛

**تفسیر:** یعني تر هغه پوري تاسو د یهودانو دی خبري ته غوږ کیږدئ! او صبر او تحمل وکړئ! چه زمونږ له لوري تاسو ته کوم حکم راشي، لکه چه په پائ (آخر) کښي محمد صلی الله علیه وسلم ته داسي حکم راغی چه ټول یهودان د مدیني منوري له چار چاپیر څخني وشړئ.

اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ۝۱۰۹

بیشکه چه الله په هر شي ښه قادر دی (نو هرومرو (خامخا) له دوی نه انتقام آخلی).

**تفسیر:** یعني د خپل ضعف له امله (وجی) اندیښنه او تردد مه کوئ! ځکه چه پاک الله به خپل قدرت سره تاسي غالب او عزیز او یهودان مغلوب او ذلیل کوی. یا دا چه ډیل او تعطیل د عجز له امله (وجی) نه دی.

وَاَقِیْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ؕ وَمَا تُقَدِّمُوْا لِاَنْفُسِكُمْ مِّنْ خَیْرٍ تَجِدُوْهُ عِنْدَ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِیْرٌ ۝۱۱۰

او سم دروئ (ادا کوئ له ټولو حقوقو سره) لمونځ او ورکوئ زکوة؛ او هغه شي چه مخ کښي لیږئ لپاره د ځانو خپلو له نیکی (لکه صله او صدقه) ویه

مومځ (ثواب د) هغه په نزد د الله؛ بیشکه چه الله په هغه شي چه کوئ ئې
تاسي ښه لیدونکی دی (نو نه ضایع کیږی اعمال ستاسی او جزا ئې درکوی)

**تفسیر:** یعنی د هغوی په ضرر او ایذاء باندی صبر وکرئ او په عباداتو کښې بوخت (مشغول) او
لګیا اوسئ! ځکه چه الله تعالیٰ ستاسی له کارونو څخه هیڅکله غافل او بی خبر نه دی ستاسی
هیڅ یو ښه کار نه شي ضایع کیدی.

وَقَالُوا لَن يَدْخُلَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَن كَانَ هُودًا أَوْ نَصَارَىٰ

او وایی (اهل کتاب) له سره به نه ننوځی جنت ته مګر هغه څوک (به
ننوځی) چه وی یهود یا نصرانی؛

**تفسیر:** یعنی یهودان خو وایی چه پرته (علاوه) له مونږ بل هیڅوک جنت ته نشی ننوتلی او
نصرانیان وایی چه پرته (علاوه) له مونږ بل هیڅوک جنت ته نشی ننوتلی.

تِلْكَ أَمَانِيُّهُمْ ۗ قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ إِن كُنتُمْ
صَادِقِينَ ﴿١١١﴾ بَلَىٰ مَنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَلَهُ
أَجْرُهُ عِندَ رَبِّهِ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿١١٢﴾

دا نفساني غوښتني د دوی دی، ووایه (ای محمده! دوی ته) راوړئ دلیل خپل
(پر دی خبره) که چیری یئ صادقان (په دی وینا کښې نه ده داسي) بلکه
(غیر له دوی هم داخلیږی) هر څوک چه وسپاری ځان خپل الله ته حال دا چه
دی نیکوکار وی نو دی ده لره اجر د ده په نزد د رب د ده ـ او نه به وی
هیڅ (قسم) ویره په دوی باندی او نه به دوی (هیچیری) خفه کیږی (د جزا
په وخت کښې).

**تفسیر:** یعنی چا چه د الله تعالیٰ احکام ومنل او د هغو متابعت ئې وکړ، که څه هم دا احکام د
هر نبی له لوری ورته رسیدلی وی او پخپل قومیت او اصولو باندی ئې د یهودانو په شان تعصب
ونکړ نو هغوی لره ښه اجر دی او نه په هغوی کښې داسې کومه خبره شته چه د هغې له امله
(وجې) به دوی په ویره کښې وی او نه به دوی غمجن وی.

وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ لَيْسَتِ النَّصٰرٰى عَلٰى شَيْءٍ ۖ وَّقَالَتِ النَّصٰرٰى لَيْسَتِ الْيَهُوْدُ عَلٰى شَيْءٍ ۙ وَّهُمْ يَتْلُوْنَ الْكِتٰبَ ؕ

او وايي يهودان چه نه دي نصرانيان په هيڅ شي (له حق دين څخه) او وايي نصرانيان چه نه دي يهودان په هيڅ شي (له حق دين څخه) حال دا چه دغه (يهودان او نصرانيان) لولي دوی کتاب (د الله)؛

**تفسير:** يعني کله چه يهودانو په (توريت) کښې ولوستل چه نصرانيان، عيسیٰ عليه السلام د خدای جل جلاله زوی بولي نو په دي مسئله ښه پوه شول چه دوی بيشکه کافران دي. او نصرانيان د (انجيل) له لوستلو څخنې په دي ښه وپوهيدل چه يهودان د عيسیٰ عليه السلام د نبوت د نه منلو له امله (وجې) کافران شول.

كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ مِثْلَ قَوْلِهِمْ ۚ فَاللّٰهُ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۱۱۳﴾

هم دا رنگه ويل هغو کسانو چه نه پوهيدل (لکه مجوسيان او مشرکان) په شان د ويلو د دغو (کتابيانو) نو الله به حکم وکړی په منځ د دوی کښې په ورځ د قيامت په هغه شي کښې چه وو دوی چه په هغه کښې به ئې اختلاف (او جګړی) کولې.

**تفسير:** له دي جاهلانو څخه د عربو مشرکين او بت پرستان مراد دي؛ يعني همغسې چه يهود او نصاریٰ يو بل کافر او ګمراه ګڼي، هم داسې بت پرستان هم پرته (علاوه) له خپلو ځانو نور ټول ګمراهان او بې دينان بولي نو دوی دي په دنيا کښې هسې خبری کوی. په قيامت کښې به د هغو په نسبت فيصله وشي.

**(فائده):** دلته داسې يوه شبهه پيدا کيږی کله چه ئې ﴿كَذٰلِكَ﴾ وفرمايل نو بيا د ﴿مِثْلَ قَوْلِهِمْ﴾ فرمايلو ته څه حاجت ؤ؟ ځينې وايي مفسران هسې ځواب وايي چه ﴿مِثْلَ قَوْلِهِمْ﴾ د ﴿كَذٰلِكَ﴾ توضيح او تاکيد دی. او ځينې وايي چه دلته جلا جلا (جدا جدا) دوی تشبيه ګانې دي نو ځکه ئې دوه لفظونه وفرمايل له يوی تشبيه څخه دا غرض دی چه د دوی او د دوی د وينا په منځ کښې مشابهت سره شته يعني ځرنګه چه دوی نورو ته ګمراه وايي دوی په خپله هم

ګمراهان دي. او له بلې تشبيه ځنې دا غرض دی لکه چه کتابيانو دا بې دليله دعوی د خپلو نفساني اغراضو او عداوتونو له امله (وجې) کوله هم داسې بت پرستان هم بې دليله يوازې د نفساني غوښتنو له امله (وجې) داسې دعوی کوي.

وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ مَّنَعَ مَسٰجِدَ اللّٰهِ اَنْ يُّذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهٗ وَسَعٰى فِيْ خَرَابِهَا ط

او څوک دی لوی ظالم (بلکه نشته) له هغه چا څخه چه بندوي مسجدونه د الله له دې چه يادکړی شي په هغو کښې نوم د الله او کوښښ کوي په ورانولو (او شاړولو) د هغو کښې؛

**تفسير:** که څه هم د دې آيت د نزول سبب نصارىٰ دي چه دوی له يهودانو سره مقاتله وکړه، (توريت) ئې وسوځاوه او بيت المقدس ئې خراب کړ. يا د مکې مشرکان دي چه هغوی د بغض، عناد او تعصب له کبله (وجې) مسلمانان په (حديبيه) کښې ستانه (صفت) کړل او د بيت الله له زيارت نه ئې محروم وګرځول. مګر هغه کسان چه کوم مسجد ورانوي نو هغوی هم په دې حکم کښې داخل دي.

اُولٰٓئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ اَنْ يَّدْخُلُوْهَآ اِلَّا خَآئِفِيْنَ ۬ ط

دغه کسان نه دي لائق دوی ته دا چه ننوځي دغو مسجدونو ته مګر ويريدونکي (له مؤمنانو څخه)؛

**تفسير:** يعنې له دې کفارو سره خو لائق داسې وو چه د الله تعالىٰ مساجدو ته سره له ويرې او تواضع، ادب او تعظيم ورننوتلي، نو دا خو ښکاره ظلم دی، چه کفارو هلته بې حرمتي وکړه يا ئې مطلب دا دی چه په عزت او حکومت سره دوی په دې ملک کښې د اوسيدلو وړ (لائق) نه دي. لکه چه هم داسې وشول چه د الله تعالىٰ له لورې مکه معظمه او (شام) مسلمانانو ته ورکړل شول.

لَهُمْ فِى الدُّنْيَا خِزْىٌ

دوی ته په دنیا کښې ذلت دی.

**تفسیر:** یعنی په دنیا کښې مغلوب شول او په قید کښې ولویدل او مسلمانانو ته به ئې جزیه ورکوله.

وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿۱۱۴﴾ وَلِلَّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ ۚ فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللَّهِ ۚ

او (شته) دوی ته په آخرت کښې عذاب ډیر لوی (په سبب د کفر او ظلم د دوی). او خاص الله لره دی مشرق او مغرب نو هر لوری ته چه مخ وګرځوئ (په لمانځه کښې) نو هم دغه لوری د طاعت د الله دی.

**تفسیر:** دا هم د یهودانو او نصرانیانو جګړی وی چه له دوی څخه هر یوه خپله قبله ښه بلله الله تعالیٰ فرمایی چه الله تعالیٰ په کوم مخصوص دول (طریقه) سره په هیڅ لوری کښې نشته، بلکه له تولو امکنه ؤ او جهاتو څخنی منزه دی او له یوی څندی څخه تر بلی څندی پوری تول څمکه ده لره ده البته د هغه له حکم سره سم هر لوری ته چه تاسی مخ کوی الله تعالیٰ مو وینی او ستاسی عبادت قبلوی ځینی وایی چه په سفر کښې په سورلو باندی د نوافلو د ادا کولو په نسبت، یا کله چه په سفر کښې قبله مشتبه شوی وه دا آیت نازل شوی ؤ.

إِنَّ اللَّهَ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿۱۱۵﴾

بیشکه چه الله پراخ دی (رحمت د ده) ښه عالم دی.

**تفسیر:** یعنی د هغه رحمت هر چیری عام دی، تر یوه ځای پوری څه اختصاص نه لری. د دوی له نیتونو، مصالحو او اعمالو څخنی په ښه دول (طریقه) خبر دی او ښه پوهیږی چه د بندګانو په حق کښې کوم شی مفید او کوم شی مضر دی؟ او سم له هغو سره حکم صادروی. هر څوک چه سم له هغه سره عمل کوی هغه ته ښه جزاء او هر څوک چه له هغه څخنی مخالف تګ کوی هغه ته بده سزا ورکوی.

وَقَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا ۙ سُبۡحٰنَهٗ ؕ بَلۡ لَّهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ
وَالۡاَرۡضِ ؕ كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوۡنَ ﴿١١٦﴾ بَدِيۡعُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ
وَ اِذَا قَضٰۤى اَمۡرًا فَاِنَّمَا يَقُوۡلُ لَهٗ كُنۡ فَيَكُوۡنُ ﴿١١٧﴾

او وائی (کفار ـ يهودان او نصرانيان داسی چه) نيولی دی الله زوی پاکی ده ده لره (له زوی څخه)؛ بلکه دی ده لره هر هغه شيونه چه په آسمانو او ځمکی کښی دی (سره له آسمانو او ځمکی ملکاً ، خلقاً وعبيداً)؛ تول ده لره حکم منونکی (او مغلوب) دی. نوی (بی له نمونی) پيداکوونکی د آسمانو او د ځمکی دی؛ او هر کله چه اراده وکړی د يوه کار نو بيشکه هم دغه خبره ده چه وايی هغه کار ته چه وشه! نو هغه وشی.

**تفسير:** يهودانو حضرت عزير عليه السلام ته او نصرانيانو حضرت عيسیٰ عليه السلام ته د الله تعالیٰ زوی ويل. الله تعالیٰ فرمايی چه د ده ذات له تولو هسی خبرو څخنی پاک او منزه دی. بلکه تول موجودات بيخی د ده مملوک او مخلوق او مطيع دی.

وَقَالَ الَّذِيۡنَ لَا يَعۡلَمُوۡنَ لَوۡلَا يُكَلِّمُنَا اللّٰهُ اَوۡ تَاۡتِيۡنَاۤ اٰيَةٌ ؕ

او وايی هغه کسان چه دوی نه پوهيږی (يا ځان نه پوهوی) ولی خبری نه کوی له موږ سره الله (پخپله) يا ولی نه راځی موږ ته يو آيت (د قدرت په صدق ستا)

**تفسير:** يعنی هغه جاهلان يا متجاهلان چه په کتابيانو او بت پرستانو کښی دی هغوی تول سره وايی چه الله تعالیٰ ولی بی له وسيلی له موږ سره خبری نه کوی؟ يا کومه يوه داسی نښه نه راښيی چه موږ د هغی له اوريدلو يا ليدلو څخنی ستا د رسالت تصديق وکړو.

كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ مِّثۡلَ قَوۡلِهِمۡ ؕ
تَشَابَهَتۡ قُلُوۡبُهُمۡ ؕ قَدۡ بَيَّنَّا الۡاٰيٰتِ لِقَوۡمٍ يُّوۡقِنُوۡنَ ﴿١١٨﴾

هم دا رنګه به ویل هغو کسانو (چه وو) پخوا له دوی څخني په شان د خبری د دوی؛ یو رنګ شوی دی زړونه د دوی؛ په تحقیق بیانی کړی دی مونږ معجزی (نښی د وحدت او نبوت) هغو خلقو ته چه دوی یقین کوی (او هیڅ شبهه او عناد په دوی کښی نشته)

**تفسیر:** الله تعالیٰ فرمایی چه پخوانیو خلقو هم داسی د جهالت خبری کولی دا کومی نوی خبری نه دی او هغو کسانو ته چه یقین او باور کوونکی دی مونږ د برحقه نبی نښی بیان فرمایلی دی او هغه کسان چه په خپل ضد او عداوت باندی ټینګ ولاړ دی او انکار کوی نو دا یوازی حسد او عناد دی.

إِنَّآ أَرْسَلْنَٰكَ بِٱلْحَقِّ بَشِيرًا وَنَذِيرًا ۖ وَلَا تُسْـَٔلُ عَنْ أَصْحَٰبِ ٱلْجَحِيمِ ﴿١١٩﴾

بیشکه مونږ لیږلی ئی ته (ای محمده !) په حقه سره زیری ورکوونکی (په نعیم) او ویرووونکی (له جحیم). او ته به نه پوښتیدل کیږی له صاحبانو د دوزخ څخه.

**تفسیر:** یعنی پر تاسی باندی د دی خبری هیڅ الزام نشته چه هغوی مو ولی په اسلام سره نه دی مشرف کړی.

وَلَن تَرْضَىٰ عَنكَ ٱلْيَهُودُ وَلَا ٱلنَّصَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ۗ

او هیڅ کله به راضی نه شی له تانه (ای محمده !) یهودان او نه نصرانیان تر هغه پوری چه متابعت وکړی ته د دین د دوی؛

**تفسیر:** یعنی یهودان او نصرانیان د حق خبری له منلو سره هیڅ یوه علاقه او کار نه لری دوی په خپل ضد باندی کلک ولاړ دی او له سره ستاسی دین نه منی، که بالفرض تاسی د هغوی تابع شئ نو خوښیږی او دا ممکنه او کیدونکی خبره نه ده نو اوس دی د هغوی د موافقت امیدونه کړی شی.

قُلْ إِنَّ هُدَى ٱللَّهِ هُوَ ٱلْهُدَىٰ ۗ

ووایه (ای محمده! دوی ته چه) بیشکه هدایت د الله (اسلام) هم دغه هدایت دی (او بس)؛

**تفسیر:** یعنی په هره زمانه کښی همغه دین معتبر او هدایت ؤ چه د هغه وخت نبی به د هغه هدایت کاوه او اوس هغه دین، د اسلام پاکه طریقه ده، نه د یهودانو او نصرانیانو دود (رواج) او دستور.

وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُمْ بَعْدَ الَّذِي جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ مَا لَكَ مِنَ اللَّهِ مِنْ وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿١٢٠﴾

او قسم دی که چیری پیروی وکړی ته د آرزوګانو د دوی وروسته له هغه چه راغلی دی تاته له علمه نو نه به وی تا لره له (عذابه د) الله هیڅ دوست (ساتونکی له بلیاتو) او مددګار (خلاصوونکی له نازله ؤ عذابو).

**تفسیر:** دا یوه فرضی خبره ده یعنی که بالفرض تاسی داسی وکړئ نو له الهٰی قهره هیڅوک خپل ځان نه شی ژغورلی (بچ کولی) یا ئی منظور د امت تنبیه ده چه که کوم سړی مسلمان شی او په قرآنی احکامو پوهیږی او بیا له اسلامه مخ واړوی نو هیڅوک دی له عذابه نشی ژغورلی (ساتلی).

الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَتْلُونَهُ حَقَّ تِلَاوَتِهِ أُولَٰئِكَ يُؤْمِنُونَ
بِهِ ۗ وَمَنْ يَكْفُرْ بِهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿١٢١﴾

هغه کسان چه ورکړی دی مونږ دوی ته کتاب لولی (دغه د اهل کتاب مؤمنان) دا کتاب د حق په لوستلو د هغه سره؛ هم دغه کسان ایمان راوړی په دغه (کتاب پرته (علاوه) له محرفینو)؛ او هغه څوک چه کافر شی په ده نو دغه کسان هم دوی دی زیانکاران (چه ایمان په کفر بدلوی).

**تفسیر:** په یهودانو کښی لږ کسان منصفان هم ؤ چه خپل کتابونه ئی داسی لوستلی او پری پوهیدلی وو چه په الفاظو کښی ئی تحریف نه کاوه په معنی د هغه کښی ئی فکر چلاوه او په

مقتضاء ئی عمل کاوه او په پاک قرآن ئی ایمان راوړی ؤ لکه حضرت عبدالله بن سلام رضی الله تعالیٰ عنه او د هغه ملګری یا د(جعفر طیار رضی الله تعالیٰ عنه هغه ملګری چه ورسره له حبشی راغلی وو) دا آیت د هغو په باره کښی دی یعنی دوی «توریت» په غور سره لوست او هم دوی ته ایمان په برخه شو او هغه کسان چه له خپل کتاب څخنی ئی انکار وکړ او په هغو کښی ئی ګوتی ووهلی او سره وایی ړاوه او تحریف ئی وکړ، نو دوی زیانکاران ـ خائنان او خاسران شول.

يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتِيَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ وَأَنِّي فَضَّلۡتُكُمۡ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٢٢ وَٱتَّقُواْ يَوۡمٗا لَّا تَجۡزِي نَفۡسٌ عَن نَّفۡسٖ شَيۡـٔٗا وَلَا يُقۡبَلُ مِنۡهَا عَدۡلٞ وَلَا تَنفَعُهَا شَفَٰعَةٞ وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ١٢٣

ای بنی اسرائیلو (اولاده د یعقوبه!) یاد کړئ نعمت زما هغه چه انعام کړی دی ما پر تاسی (او بل دا یاد کړئ چه) بیشکه ما غوره کړی یئ تاسی (یعنی نیکونه ستاسی) پر خلقو (د زمانی ستاسی) او ووېرېږی، له (عذابه د) هغی ورځی چه لری کولی به نه شی هیڅ نفس له هیڅ (کافر) نفس څخه هیڅ شی (له عذابه) او نه به شی قبلولی له دغه نفس څخه بدل (فدیه) او نه به نفع رسوی ده ته شفاعت (سپارښت د هیچا) او نه به له دوی سره مدد وکړی شی (په دفع د عذاب کښی).

**تفسیر:** د هغو خبرو یادونه چه په شروع کښی بنی اسرائیلو ته شوی وه، اوس بیا د هغو تولو حالاتو د یادولو څخنی وروسته بیا هم د همغو یادونه د تاکید او تنبیه او ویښولو له امله (وجی) کړی شوی ده چه ښه ئی په زړه شی او د هدایت په لوری واوړی او لا ښه خرګنده شی چه له دی قصی څخه اصلی مقصد هم دا دی.

وَإِذِ ٱبۡتَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِـۧمَ رَبُّهُۥ بِكَلِمَٰتٖ فَأَتَمَّهُنَّۖ

او (یاد کړه ای محمده!) هغه وخت چه وازمایه ابراهیم لره پروردګار د ده په څو خبرو نو ده پوره کړی هغه (خبری).

**تفسیر:** لکه اوامر ـ نواهی او سنن ـ د حج افعال ـ ختنه ـ سر بیلول (د سر لار ایستل) مسواک او نور چه حضرت ابراهیم علیه السلام د الله تعالیٰ د احکامو سره سم هغه تول په ډیر اخلاص

سره په ځای راوړی دی او تول ئی په ډیر ښه ډول (طریقه) سره ادا او پای (انتها) ته رسولی دی او له هم دی امله (وجی) د خلقو امام او پیشوا ګرځول شوی دی.

قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًاؕ

وویل (الله) چه بیشکه زه ګرځوونکی د تا یم لپاره د خلقو مقتدا (په دین کښی)

**تفسیر:** یعنی تول (راتلونکی) انبیاء به ستاسی په متابعت باندی تګ وکړی.

قَالَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِيؕ قَالَ لَا يَنَالُ عَهْدِي الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٢٤﴾

وویل (ابراهیم) او له اولادی می هم (مقتدایان وګرځوه) نو وفرمایل (الله) نه رسیږی عهد (امانت زما) کافرانو ته.

**تفسیر:** «بنی اسرائیل» په دی ډیر مغرور وو چه مونږ د حضرت ابراهیم علیه السلام اولاد یو او الله تعالیٰ له حضرت ابراهیم علیه السلام سره وعده فرمایلی ده چه نبوت او لویی به ستا په اولاده او ځوځات (نسل) کښی پاتی وی او مونږ د «حضرت ابراهیم» په دین باندی یو او ګرد د هغه دین منو. اوس پاک الله دوی پوهوی چه د الله تعالیٰ هغه وعده له هغو کسانو سره وه چه د نیکی پر لار ئی تګ کاوه. حضرت ابراهیم علیه السلام دوه زامن درلودل (لرلو). تر یوی مودی پوری د حضرت اسحاق علیه السلام په اولاده کښی لویی او نبوت ؤ، اوس د حضرت اسمٰعیل علیه السلام خیلخانی او اولادی ته رسیدلی دی ځکه چه ده د خپلو دواړو زامنو په نسبت دعا کړی ده او فرمایلی ئی دی چه د اسلام دین تل یو دی، ښایی چه تول رسولان او امتیان په همغی یوی لاری لاړ شی او هغه دا ده کوم حکم چه پاک الله د رسولانو په وسیله رالیږی، ومانه شی چه اوس په دغه دین باندی یوازی مسلمانان تګ کوی او تاسی له دی طریقی څخنی مخ اړولی دی. په ړومبنیو آیاتو کښی ئی خپلی ښیګڼی (فائدو) او انعامات راوښوول ـ اوس د هغوی هغه شبهه لری او دفع کوی چه بنی اسرائیل خپل ځانونه د تول عالم امام او متبوع او له تولو څخنی ښه او افضل ګڼل، نو ځکه د بل هیچا متابعت ئی نه کاوه.

**(فائده):** د بنی اسرائیلو په واقعاتو کښی ئی د حضرت ابراهیم علیه السلام ذکر او منقبت وفرمایل، اوس د هغه په ضمن کښی د بیت الله د حالاتو او فضائلو ذکر فرمایی او د دی تذکر په منځ کښی په یهودانو او نصرانیانو باندی الزامات هم شته. لکه چه مفسران ئی ذکر کوی.

وَإِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَأَمْنًا ط

او (یاد کړه ای محمده!) هغه وخت چه وګرځوله مونږ کعبه ځای د ثواب (او اجتماع) خلقو ته او ځای د امن

**تفسیر:** یعنی هرکال د حج له پاره خلق هلته سره راټولیږی او هلته د حج ارکان ادا کوی - نو دا خلق د دوزخ له عذابه ساتلی او مأمون کیږی. یا هلته په بل هیچا څه تجاوز او تیری نه کیږی.

وَاتَّخِذُوا مِن مَّقَامِ إِبْرٰهِيمَ مُصَلًّى ط

او ونیسئ (ای مؤمنانو!) له ځای د (دریدلو د) ابراهیم ځنی ځای د لمانځه (طواف او دعا).

**تفسیر:** مقام ابراهیم علیه السلام هغه تیږه (ګټه) ده چه حضرت ابراهیم علیه السلام د کعبی شریفی د ودانولو په وخت کښی پری دریده. په دی تیږی (ګټی) باندی د حضرت ابراهیم علیه السلام د پښو نښی دی او دی په هم دی تیږی (ګټی) باندی د حج د دعوت له پاره دریدلی ؤ او دا تیره (ګټه) هم لکه (حجرالاسود) له جنت ځنی راوړی شوی ده، اوس حکم دی چه له دی تیږی (ګټی) سره دی نژدی لمونځ وکړ شی او دا حکم استحبابی دی.

وَعَهِدْنَا إِلَىٰ إِبْرٰهِيمَ وَإِسْمٰعِيلَ أَن طَهِّرَا بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْعٰكِفِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ ﴿۱۲۵﴾

او حکم کړی وو مونږ ابراهیم ته او اسمٰعیل ته (دوی دواړو پلار او زوی ته) چه پاک کړئ! (او پاک وساتئ! تاسی دواړه پلار او زوی) کور (د عبادت) زما لپاره د طواف کوونکو او معتکفینو (یا د مسافرانو او مقیمانو) او (له پاره د) رکوع کوونکو سجده کوونکو (لمونځ کونکو).

**تفسیر:** یعنی دلته دی خلق خراب کارونه ونه کړی! او د هغه په چپ چاپیر (چار چاپیره) کښی دی ناولی ونه ګرځی او طواف دی په طهارت سره وکړی! او له تولو چتلیو (ګندګو) ځنی دی بیت الله شریف پاک، صفا وساتل شی!

وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ رَبِّ ٱجْعَلْ هَٰذَا بَلَدًا ءَامِنًا

او (یاد کړه ای محمده !) هغه وخت چه وویل ابراهیم ای ربه زما وګرځوه دا ښار (چه کعبه می په کښی ودانه کړی ده) ځای د امن.

**تفسیر:** د کعبی شریفی د ودانولو په وخت کښی حضرت ابراهیم علیه السلام داسی دعا کړی وه چه دا میدان دی ودان او مأمون ښار وی! لکه چه هم داسی هم وشول.

وَٱرْزُقْ أَهْلَهُۥ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ مَنْ ءَامَنَ مِنْهُم بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ

او روزی ورکړه اوسیدونکو ته ئی له هر راز (قسم) میوو نه هر هغه چا لره چه ایمان ئی راوړی دی له دوی ځنی په الله او په ورځ آخره باندی (چه د قیامت ورځ ده).

**تفسیر:** یعنی د دی ځای هغو اوسیدونکو ته چه مسلمانان وی، رزق او روزی ور ورسوه ! او میوی ور دیری کړه ! او کافرانو ته ئی دعا ونه فرمایله چه هغه پاک ځائ د کفارو له لوث (پلیتیځ) او ګندګیځ شخه پاک او صاف پاتی وی.

قَالَ وَمَن كَفَرَ فَأُمَتِّعُهُۥ قَلِيلًا ثُمَّ أَضْطَرُّهُۥٓ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلنَّارِ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٢٦﴾

وفرمایل (الله) او هر څوک چه کافر شو نو فائده به ورکړم هغه ته لږه بیا به په زور (او خواری) بوځم دی عذاب د اور (د دوزخ) ته، او بد ځای د ورتلو دی (هغه اور).

**تفسیر:** حق تعالیٰ فرمایی چه په دنیا کښی کفارو ته هم رزق ورکاوه شی او د رزق حال لکه «امامت» داسی نه دی چه هغه ماسواء له ایمان لرونکی بل چاته نه وررسیږی.

وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَٰهِـۧمُ ٱلْقَوَاعِدَ مِنَ ٱلْبَيْتِ وَإِسْمَٰعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّآ ۖ

إِنَّكَ أَنتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿١٢٧﴾

او (یاد کړه ای محمده !) هغه وخت چه پورته کړل ابراهیم تادوونه (بنیادونه) د کعبې او اسمٰعیل (هم او دواړو به ویل) ای ربه زمونږ ته قبول کړه (دا کار) له مونږ څخه، بیشکه ته چه ئی هم دا ته ښه اوریدونکی ښه پوهیدونکی ئی.

**تفسیر:** یعنی دا کار مو ته په خپل دربار کښې قبول کړه ! (چه د کعبې ودانول دی) ته د تولو دعاوی آوری! او د دوی په نیتونو باندی پوهیږی!.

رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِن ذُرِّيَّتِنَا أُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّكَ وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ
عَلَيْنَا ۖ إِنَّكَ أَنتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿١٢٨﴾ رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْهُمْ يَتْلُوا
عَلَيْهِمْ آيَاتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ ۚ إِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿١٢٩﴾ ع

ای ربه زمونږه او وګرځوه مونږه حکم منونکی ستا او (وګرځوه) له اولادی زمونږ یوه ډله حکم منونکی ستا او وښیه مونږ ته احکام د حج زمونږ او قبوله کړه توبه زمونږ، بیشکه ته هم دا ته چه ئی ښه توبه قبلوونکی ښه مهربان ئی. ای ربه زمونږ ! پیدا کړه (ولیږه) په دوی کښې یو رسول له دوی ځنی چه دی لولی پر دوی باندی آیتونه ستا (چه د وحدت او نبوت دلایل دی). او ښیی دوی ته کتاب (یعنی قرآن) او حکمت (شرعی احکام) او پاک کړی دوی (له ګناهونو)، بیشکه ته هم دا ته ئی ښه غالب د حکمت خاوند (په خپل کار کښې).

**تفسیر:** دا دعا حضرت ابرهیم او د ده زوی حضرت اسمٰعیل علیهما السلام دواړو کړی ده چه زمونږ په ځوځاتو (نسل) کښې یوه حکم منونکی ډله پیدا کړه ! او یو داسی رسول په دوی کښې ولیږه ! چه هغو ته کتاب او حکمت وښیی! نو داسی یو نبی چه د دوی دواړو له اولاد څخه دی پرته (علاوه) د حضرت ختم المرسلین محمد صلی الله علیه وسلم څخه بل څوک نه دی، نو د دی

له امله (وحی) د یهودانو د پخوانیو خیالاتو پوره تردید وشو له «علم الکتاب» ځنی هغه ضروری مطالب او معانی مراد دی چه له عبارت څخه واضح او ښکاره کیږی او له «حکمت» څخه مخفیه اسرار او لطیفه رموز مراد دی.

---

وَمَنْ يَّرْغَبُ عَنْ مِّلَّةِ اِبْرٰهٖمَ اِلَّا مَنْ سَفِهَ نَفْسَهٗ ۭ وَلَقَدِ اصْطَفَيْنٰهُ فِي الدُّنْيَا ۚ
وَاِنَّهٗ فِي الْاٰخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿١٣٠﴾ اِذْ قَالَ لَهٗ رَبُّهٗٓ اَسْلِمْ ۙ قَالَ اَسْلَمْتُ لِرَبِّ
الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٣١﴾ وَوَصّٰى بِهَآ اِبْرٰهٖمُ بَنِيْهِ وَ يَعْقُوْبُ ۭ يٰبَنِيَّ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰى لَكُمُ
الدِّيْنَ فَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿١٣٢﴾

---

او څوک دی چه مخ گرځوی له دینه د ابراهیم څخه (هیڅوک ئی نه گرځوی) مگر هغه څوک چه احمق گرځولی وی ده ځان خپل، او البته په تحقیق غوره کړی ؤ مونږ ابراهیم په دنیا کښې (په نبوت او خلت او د بیت الله په تعمیر سره)؛ او بیشکه دی په آخرت کښې له (خاصو) نیکانو څخه دی. او (یاد کړه) کله چه وویل ابراهیم ته رب د ده چه غاړه کیږده (زما احکامو ته) نو وویل (ابرهیم) غاړه می ایښې ده رب د عالمیانو ته او وصیت کړی ؤ په دین خپل سره ابراهیم زامنو خپلو ته او یعقوب (هم)، چه ای زامنو زما بیشکه چه الله غوره کړی دی تاسی ته دین (د اسلام) نو له سره مه مرئ تاسی مگر په هغه حال کښې چه تاسی مسلمانان یئ (چه پر اسلام تر نزعی ثابت اوسئ!)؛

---

**تفسیر:** د هغه ملت او مذهب چه شرف مذکور شو، د هم دی ملت وصیت حضرت ابراهیم او حضرت یعقوب علیهما السلام خپلو اولادو ته فرمایلی ؤ. نو هر هغه څوک چه دا وصیت ونه منی، نو دی د هغو له ویناؤ ځنی هم سر غړوی. یهودان وایی چه حضرت یعقوب خپلو اولادو ته د «یهودیت» وصیت فرمایلی دی، دا وینا بالکل دروغ ده. لکه چه په وروستنی آیت کښې راځی. له دی آیت څخه مقصد نهی ده له ترکه د اسلامه، نه، له مرگه. لکه چه ویلی شی چه **«لاتصل الا وانت خاشع»** یعنی لمونځ مه کوه! ای لمونځ کوونکیه! مگر په هغه حال کښې چه ئی ته

ویریدونکی له الله څخه.

أَمْ كُنتُمْ شُهَدَآءَ إِذْ حَضَرَ يَعْقُوبَ ٱلْمَوْتُ إِذْ قَالَ لِبَنِيهِ
مَا تَعْبُدُونَ مِنۢ بَعْدِى قَالُوا۟ نَعْبُدُ إِلَٰهَكَ وَإِلَٰهَ ءَابَآئِكَ
إِبْرَٰهِـۧمَ وَإِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ إِلَٰهًا وَٰحِدًا وَنَحْنُ لَهُۥ مُسْلِمُونَ ﴿١٣٣﴾

آیا وئ تاسی حاضران په هغه وخت کښې چه راغی یعقوب ته (اسباب د) مرګ کله چه وویل (یعقوب) زامنو خپلو ته چه د څه شی عبادت به کوئ پس له (مرګه) زما؛ نو وویل دوی چه عبادت به کوو د معبود ستا او د معبود د پلرونو ستا چه ابراهیم او اسمٰعیل او اسحاق دی هغه الله ته چه یو دی (شریک نه لری) او مونږ ټول هغه ته غاړه ایښودونکی یو.

**تفسیر:** یعنی تاسی د حضرت یعقوب علیه السلام د وصیت په وخت کښې له سره موجود نه وئ. دوی خو د همغو ستایل شویو انبیاؤ ملت ته ارشاد فرمایلی وو او تاسی داسی وګړل چه یهودانو وویل چه پرته (علاوه) له مونږ او نصرانیانو وویل چه پرته (علاوه) له مونږ، نور ټول بی دینان دی او له اسلام څخه چه حق مذهب دی دواړه مخالف شول. او په دغه عمل ئی چه بیخی دروغ او افترا ده د وصیت نوم کیښود.

تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُم مَّا كَسَبْتُمْ
وَلَا تُسْـَٔلُونَ عَمَّا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٣٤﴾

دغه یو ټولی وه چه په تحقیق تیر شوی دی، هغوی ته ده (جزا د) هغه څه چه کړی ئی وی او تاسی ته ده (جزا د) هغه څه چه کړی دی تاسی او نه به پوښتیدل کیږئ له هغه څه چه وو دوی چه کاوه به ئی (هغه).

**تفسیر:** یعنی یهودانو او نصرانیانو یقین درلود (لرلو) چه د مور او پلار په ګناهونو به زامن نیول کیږی او د هغوی په ثوابو کښې به هم برخه آخلی. دا وینا بیخی غلطه او چټی (بیکاره) ده. بلکه د هر چا عمل د ده د لاری مل، او چاره ئی تر غاړه ده، څه ئی چه کړلی وی هغه به

ربېی او هر څه ئې چه کړی وی هغه به ئې په مخ کښې راځی، ښه وی که بد.

وَقَالُوا كُونُوا هُودًا أَوْ نَصَارَىٰ تَهْتَدُوا ۗ

او وايي دوی (کتابيان مسلمانانو ته) چه شئ! يهودان يا (شئ) نصرانيان چه سمه لاره ومومئ.

**تفسير:** مطلب دا دی چه يهودان مسلمانانو ته وايي چه يهودان شئ! او نصرانيان دوی ته وايي چه نصرانيان شئ چه هدايت مو په برخه شي.

قُلْ بَلْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا ۖ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٣٥﴾

ووايه (ای محمده دوی ته چه مونږ داسی نه کوؤ) بلکه (متابعت کوو) د دين د ابراهيم چه په يوه لوری (يعنی له هر باطله حق ته مائل) ؤ او نه ؤ دی له مشرکانو څخه.

**تفسير:** يعنی ای محمده! صلی الله عليه وسلم دوی ته ووايه چه ستاسی دا وينا هيڅ د منلو وړ (لائق) نه ده، بلکه مونږ د ابراهيم عليه السلام له هغه ملت سره بالکل سم او موافق يو چه له ګردو خرابو مذاهبو څخه بيل دی. په دی خبره کښې چه نه ؤ دی له شرک کوونکو څخه دی خبری ته اشاره ده چه تاسی دواړه فرقی په شرک کښې اخته يئ، بلکه د عربو نور مشرکان هم چه د ابراهيمی مذهب مدعيان وو د شرک او کفر په سيند کښې لاهو وو. له دی آيته په هغو هم ترديد وشو. د انصاف له مخی اوس له دی دوو فرقو څخه هيڅ يوه هم په ابراهيمی مذهب باندی نه ده او يوازی مونږ مسلمانان په ابراهيمی مذهب پاتی يو.

**(فائده):** په هر شريعت کښې دری خبری وی

(اول): عقايد لکه توحيد ـ نبوت او نور مؤمن به شيان نو په دی کښې تول آسمانی دين لرونکی شامل او شريک او موافق دی او اختلاف له سره په کښې ممکن نه دی.

(دوهم): د شريعت کليه قواعد چه له هغو څخه جزئيات او فرعی مسائل حاصليږی، او په تولو جزئياتو کښې تل همغه کليات ملحوظ او تر کتنی لاندی وی او فی‌الحقيقت ملت د هم دی اصولو او کلياتو نوم دی. او د محمد صلی الله عليه وسلم د ملت (دين) او د ابراهيمی ملت توافق او اتحاد هم په هم دغو کلياتو کښې دی.

(دريم): د ګردو کلياتو او تولو اصولو او فروعو مجموعه چه هغه ته شريعت وايي. چه د دی خلاصه داسی شوه چه د حضرت محمد رسول الله او حضرت ابراهيم خليل الله عليهما الصلوٰة

والسلام ملت سره یو دی ـ او د دوی شریعتونه سره بیل بیل دی.

قُولُوٓا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ اُنۡزِلَ اِلَیۡنَا وَمَآ اُنۡزِلَ اِلٰٓی اِبۡرٰهٖمَ وَاِسۡمٰعِیۡلَ وَاِسۡحٰقَ
وَیَعۡقُوۡبَ وَالۡاَسۡبَاطِ وَمَآ اُوۡتِیَ مُوۡسٰی وَعِیۡسٰی وَمَآ اُوۡتِیَ النَّبِیُّوۡنَ مِنۡ
رَّبِّهِمۡ ۚ لَا نُفَرِّقُ بَیۡنَ اَحَدٍ مِّنۡهُمۡ ۫ وَنَحۡنُ لَهٗ مُسۡلِمُوۡنَ ﴿۱۳۶﴾

ووایئ (ای مؤمنانو!) چه ایمان راوړی دی مونږ په الله او په هغه (قرآن) چه نازل کړی شوی دی په مونږ او په هغو (لسو صحیفو) چه نازل کړی شوی دی ابراهیم ته او اسمٰعیل او اسحاق او یعقوب او اولادی (د دوی) ته او په هغو (کتابونو او معجزاتو) چه ورکړی شوی موسٰی ته او (ورکړی شوی دی) عیسٰی ته او (پر) هغو (کتابونو) چه ورکړی شوی دی (نورو) انبیاؤ ته له ربه د دوی نه حال دا چه نه کوو فرق په منځ د یوه تن له دوی ځنی (په نبوت او نه نبوت سره) او مونږ الله ته غاړه ایښودونکی یو.

**تفسیر:** یعنی مونږ په ټولو انبیاؤ او کتابونو ایمان راوړو. او ټول حق ګڼو او هر یو له دوی ځنی په خپله زمانه کښی واجب الاتباع بولو. مونږ د الله تعالیٰ حکم منونکی یو او وایو چه په هره زمانه کښی هر نبی علیه السلام چه هر الٰهی حکم له ځانه سره راوړی دی د هغو منل او اتباع ضروری دی. پرته (علاوه) له کتابیانو ځنی چه له خپل دین څخه په غیر، د نورو ټولو ادیانو تکذیب کوی. اګر که د دوی دین منسوخ شوی هم وی او د انبیاؤ هغه احکام دروغ ګڼی چه د الله تعالیٰ احکام دی.

فَاِنۡ اٰمَنُوۡا بِمِثۡلِ مَآ اٰمَنۡتُمۡ بِهٖ فَقَدِ اهۡتَدَوۡا ۚ وَاِنۡ تَوَلَّوۡا فَاِنَّمَا
هُمۡ فِیۡ شِقَاقٍ ۚ فَسَیَکۡفِیۡکَهُمُ اللّٰهُ ۚ وَهُوَ السَّمِیۡعُ الۡعَلِیۡمُ ﴿۱۳۷﴾

نو که ایمان راوړی دا (یهود او نصاریٰ) لکه چه تاسی ایمان راوړی دی په هغه (مؤمن به شیانو بی له فرقه) نو په تحقیق ئی ومونده سمه لاره، او که

ئی مخ وگرځاوه (له ایمانه) نو بیشکه هم دا خبره ده چه دوی (له تاسی سره) په مخالفت کښې دی، نو ژر ده چه کافي به شي په (دفع د شر) د دوی کښې تا لره الله، او هم دی دی ښه اوریدونکی (د اقوالو) ښه عالم (په احوالو).

**تفسیر:** یعنی د دی له دښمنی او ضد څخه مه ویریږئ! پاک الله د هغوی له شر او ضرر څخه ستاسی ساتونکی دی. هغوی تاسی ته هیڅ ورانی نشی رسولی. الله تعالیٰ د تولو خبری آوری او په تولو احوالو او نیتونو خبر او پوه دی.

صِبْغَةَ اللّٰهِ ۚ وَمَنْ اَحْسَنُ مِنَ اللّٰهِ صِبْغَةً ۫ وَّنَحْنُ لَهٗ عٰبِدُوْنَ ﴿١٣٨﴾

(او وائی ای مؤمنانو! چه مونږ الله رنګ کړی یو) په رنګ د الله او څوک ښه دی له الله څخنی له جهته د رنګه (د دین) او مونږ خاص ده لره عبادت کوونکی یو.

**تفسیر:** یهودان له دی آیتونو څخنی واوښتل او اسلام ئی ونه مانه. او نصرانیانو هم انکار وکړ او د لاقو او باتو په ضمن کښې به ئی ویل چه له مونږ سره داسی یو رنګ شته چه له مسلمانانو سره نشته.

د نصرانیانو دا دود (رواج) وه چه یو ډول (قسم) زیړ رنګ ئی جوړ کړی ؤ او کله به چه په دوی کښې کوم وړوکی پیدا کیده، یا به کوم سړی د دوی په دین کښې داخلیده، نو دوی به په هغه رنګ رنګاوه او په هغه کښې به ئی غوته کاوه چه سوچه او ستره نصرانی شی. نو پاک الله فرمایی چه «ای مسلمانانو! ووایی چه مونږ د الله تعالیٰ په رنګ سره رنګ شوی یو چه ایمان دی. حق دین مو منلی دی چه د دی حق دین له منلو او نټوتلو څخه وروسته تولی ناپاکی او ناولتیاوی او نور کثافات (خیری) بیخی لری کیږی او هر مسلمان پکښې پاک، صاف کیږی.»

قُلْ اَتُحَآجُّوْنَنَا فِى اللّٰهِ وَهُوَ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ ۚ وَلَنَآ
اَعْمَالُنَا وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ ۚ وَنَحْنُ لَهٗ مُخْلِصُوْنَ ﴿١٣٩﴾

ووایه (ای محمده! دوی ته) ایا جګړه کوئ تاسی له مونږه سره په (دین) د الله کښې حال دا چه هغه دی رب زمونږ او رب ستاسی، او مونږ لره دی عملونه زمونږ او تاسی لره دی عملونه ستاسی، او مونږ خاص الله لره په

اخلاص (عبادت کوونکی) یو.

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ په نسبت ستاسی داسی نزاع او جگړی کول او داسی گڼل چه د الله تعالیٰ د رحمت او عنایت لایق (وړ) او مستحق پرته (علاوه) له مونږ څخنی بل هیڅوک نشته، خوشی بیکاره خبره ده. او هغه پاک ذات همغسی چه ستاسی رب دی، زمونږ رب هم دی. او مونږ څه عملونه چه کوو، خالص الله تعالیٰ لره ئی کوو مونږ تاسی غوندی یوازی په خپلو پلرونو او نیکونو افتخار نه کوو. او په تعصب، نفسانیت، او حسد کښی اخته نه یو. نو بیا څله زمونږ عملونه د پاک رب په دربار کښی نه منل کیږی؟

أَمْ تَقُولُونَ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطَ كَانُوا هُودًا أَوْ نَصَارَىٰ ۗ قُلْ أَأَنْتُمْ أَعْلَمُ أَمِ اللَّهُ ۗ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ كَتَمَ شَهَادَةً عِنْدَهُ مِنَ اللَّهِ ۗ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿١٤٠﴾

آیا وایئ تاسی (ای کتابیانو!) چه بیشکه ابراهیم او (د ده زامن او لمسی) اسمٰعیل او اسحاق او یعقوب او اولاد (د دوی) وو دوی (ټول) یهودیان یا نصرانیان؛ ووایه (ای محمده! دوی ته) ایا تاسی ښه پوهیږی، که الله؛ او څوک دی زیات ظالم له هغه چانه چه پټوی له خلقو (ثابته) شاهدی په نزد د ده له طرفه د الله؛ او نه دی الله بی خبره له هغه څه چه تاسی ئی کوئ.

**تفسیر:** د حضرت ابراهیم او حضرت اسمٰعیل او نورو انبیاؤ علیهم السلام په نسبت چه کتابیانو داسی دعوه کوله چه دوی یهودان یا نصرانیان وو، ښکاره او صریحه دروغ ده. برسیره پر دی حق تعالیٰ فرمایی ﴿مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا﴾ نو اوس راوښیئ! چه ستاسی پوهه او علم زیات دی که د هغه (علام الغیوب الله تعالیٰ)؟.

تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ۖ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُم مَّا كَسَبْتُمْ ۖ وَلَا تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٤١﴾

دغه يوه ډله وه چه په تحقيق تيره شوی وه، هغوی لره ده (جزا) د هغه څه چه کړی ئی وی، او تاسی لره ده (جزا) د هغه څه چه کړی دی تاسی، او نه به پوښتيدلی کيږئ، له هغه څه چه وو دوی چه کول به ئی.

**تفسير:** هم دا آيت وړاندی تير شوی دی، هرکله چه د دی کتابيانو په زړونو کښی تکبر او غرور ځای نيولی ؤ او داسی ئی ګڼل چه زمونږ اعمال هرڅومره چه خراب وی، بيا به هم زمونږ پلرونه شفاعت کوی او ښينه به راته غواړی، نو ځکه د داسی چټی (بيکاره) خيالاتو د لا ښه ترديد کيدلو لپاره ئی هغه آيت بيا مکرر بيان وفرمايه داسی وپوهيږئ چه په پخوانی آيت کښی کتابيانو ته خطاب ؤ. او په دی آيت کښی له (محمدی) امت سره مخاطبه ده چه په دی چټی (بيکاره) خيال کښی د هغوی متابعت او پيروی مه کوئ! ځکه چه دا راز (قسم) هيلی (اميد) او توقعات هر سړی د خپلو مشرانو او مرو ځنی په خپل زړه کښی کولی شی چه داسی تخيلات او توقعات بيخی غلط او چټی (بيکاره) دی. اوس وروسته له دی نه د يهودانو او نورو مشرکانو د يوی بلی ناپوهئ او حماقت څخه اطلاع ورکوله کيږی چه د قبلی د تحويل په نسبت عنقريب راتلونکی دی.

سَيَقُولُ السُّفَهَآءُ مِنَ النَّاسِ مَا وَلّٰىهُمْ عَنْ قِبْلَتِهِمُ الَّتِيْ كَانُوْا عَلَيْهَا ط

ژر ده چه وبه وايي ناپوهان له خلقو چه څه شي وګرځول دوی (يعنی رسول صلی الله عليه وسلم او مؤمنان) له قبلی د دوی څخه هغی نه چه وو دوی په هغی باندی؟

**تفسير:** كله چه رسول اكرم صلی الله عليه وسلم مكی شريفی څخه مدينی منوری ته تشريف راوړ، تر ١٦ - ١٧ مياشتو پوری ئی د بيت المقدس په لوری لمونځ كاوه، وروسته د كعبی شريفی په لوری مامور شول، چه خپل مخ وګرځوی. دلته يهودان او مشركان، منافقان او ځينی ضعيف الاعتقاد مسلمانان په انديښنو او شبهو كښی ولويدل، او مخالفانو په توكو او مسخرو لاسونه پوری كړل، او داسی به ئی ويل «دوی خو تراوسه پوری د بيت المقدس په لوری چه د تولو انبياؤ قبله وه، لمونځ كاوه، نو اوس په دوی څه وشول چه هغه د پخوانيو انبياؤ قبله ئی پريښوده؟ او د كعبی په لوری ئی مخ وګرځاوه؟» چا به ويل چه «د يهودانو د رخی، (كينی) حسد او عداوت له امله (وجی) يی داسی وكړل» ځينو به ويل چه «دی په خپل دين كښی متردد او متحير دی، چه له دی چارو ځنی د ده تذبذب او عدم نبوت راښكاره كيږی»
د مخالفانو له دی اعتراضونو او له هغه ځواب څخه چه الله تعالیٰ ئی وروسته فرمايي، دا جګړه داسی پای (آخر) ته رسيږی، چه د هغه له اوريدلو ځنی هيچا ته نور هيڅ تردد او انديښنه نه پاتی كيږی.

قُلْ لِّلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ ط يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿١٤٢﴾

ووايه (ای محمده! دوی ته) چه الله لره دی مشرق او مغرب (بلكه تول جهات) هدايت كوی هغه چاته چه اراده (ده هدايت يی) وكړی (طرف) د لاری سمی ته (چه اسلام دی).

**تفسير:** يعنی ای محمده! دغو ناپوهانو ته ووايه چه نه مونږ د يهودانو له عداوته، او نه د بل كوم نفسانی تعصب له امله (وجی) او نه د خپلی شخصی رأيی له متابعته، خپله قبله بدله كړی

ده بلکه مونږ یوازی د الله تعالیٰ د فرمان په اثر، چه زمونږ د حق دین اساس دی، دا قبله بدله کړه تر هغه وخته پوری چه مونږ مامور وو چه د بیت المقدس په لوری لمونځ وکړو، نو مونږ هغه حکم ومانه، اوس چه مونږ مامور شوی یو چه د کعبې شریفې په لوری مخ وګرځوئ! نو مونږ د زړه له کومې (منځ) دا حکم هم ومانه، نو د دې په نسبت له مونږ ځنې داسې پوښتنې، او پر مونږ دا راز (قسم) اعتراضونه کول سخت حماقت دی. د الله تعالیٰ په حکم منونکی تابع بنده داسې اعتراض کول چه ده پخوا له دې نه داسې کار کاوه او اوس ولې داسې کار کوی؟ دا د پوهانو او عاقلانو کار نه دی. که د داسې مختلفو احکامو اسرار لتول مو په کار وی، نو د الله تعالیٰ د ټولو احکامو په اسرارو څوک پوهیدی شی؟. او تاسې ناپوهان څوک پوهولی شی؟. هو! په دومره خبره هر څوک پوهیدی شی، او مونږ هم هر څوک پوهولی شو، چه مقصد د قبلې له ټاکلو (مقررولو) ځنې د عبادت د طریقې ښوول دی، او اصلی عبادت نه دی، او په دې مورد (ځای) کښې د پاک الله معامله جلا جلا (جدا جدا) ده، ځینو ته په خپل، حکمت او رحمت له مخې یوه لاره ورښیی، او ځینو ته بله. د ټولو ځایونو او مواقعو څیښتن (خاوند) او مالک الله دی، هر چاته په هر وخت کښې چه اراده وکړی، داسې لاره ورښیی، چه له نورو ټولو لارو ځنې ښه، سمه او لنډه وی، لکه چه اوس ئې مونږ ته داسې قبله راوټاکله (مقرره کړه)، او هدایت ئې راته وفرمایه، چه له ټولو قبلو ځنې افضله او بهتره ده.

---

وَكَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّسَطًا لِّتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ عَلَيْكُمْ شَهِيْدًا ؕ

---

او هم داسې (لکه چه هدایت مو درته کړی دی) ګرځولی یئ مونږ تاسې یوه ډله غوره دپاره د دې چه شئ شاهدان پر نورو خلقو (د جزا په ورځ د انبیاؤ له خوا) او چه شی (محمد) رسول (د الله) پر تاسې (ای محمدی امته!) شاهد.

---

**تفسیر:** یعنی همغسې چه ستاسو قبله کعبه ده او د حضرت ابراهیم علیه السلام قبله، او له ټولو قبلو ځنې افضله ده، هم دا راز (قسم) مې تاسې هم له ټولو امتو ځنې افضل او ستاسې رسول مې هم له ټولو نبیانو او رسولانو څخه اکمل منتخب او غوره کړی دی. چه د دې فضیلت او کمال له سببه تاسې د نورو ټولو امتو په مقابل کښې داسې شاهدان چه مقبول الشهادت وی، منل کیږئ. او محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ستاسې پر عدالت او صداقت شاهدی ورکوی. لکه چه په احادیثو کښې راغلی دی «کله چه د پخوانیو امتونو کافران د خپلو رسولانو د دعوی تکذیب وکړی، او ووایی چه مونږ ته په دنیا کښې د هیچا له خوا هدایت او لارښوونه نه ده شوی. نو په دغه وخت کښې محمدی امت د رسولانو د دعوی په صداقت باندې شاهدی ورکوی، او حضرت

محمد صلی الله علیه وسلم چه د خپلو امتیانو له احوالو ښخه پوره واقف دی، د دوی په صداقت او عدالت باندی شاهدی ورکوی. دلته به نور امتیان وایی چه «دوی نه زمونږ په زمانه کښی وو، او نه بیخی مونږ او دوی سره لیدلی دی، نو د دوی شاهدی په مونږ ښرنګه اوریدله کیږی؟» دلته به محمدی امت داسی ځواب ورکوی چه «مونږ ته دا تولی خبری د الله تعالیٰ له کتابه او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له ښوونی ښخه راښرګندی شوی، او دغه امر مونږ ته د «علم الیقین» تر حده رسیدلی دی نو ځکه مونږ پر تاسی شاهدی لولو.

**(فائده):** ـ د **«وسط»** یعنی معتدل مطلب دا دی چه محمدی امت بیخی په سمه لار دی. چه په هیڅ ډول (طریقه) د هیڅ شانی کوږوالی شائبه پکښی نشته. او له افراط او تفریط ښخه بیخی پاک دی.

---

وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِي كُنتَ عَلَيْهَا إِلَّا لِنَعْلَمَ مَن يَتَّبِعُ الرَّسُولَ مِمَّن يَنقَلِبُ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ ط

---

او نه ده ګرځولی مونږ (دا) قبله هغه چه وی ته (پخوا له هجرت نه) په هغی باندی مګر دپاره د دی چه مونږ (بیل او) معلوم کړو هغه ښوک چه پیروی کوی د رسول له هغه چانه چه بیرته ګرځی په پوندو خپلو (کفر ته)

---

**تفسیر:** یعنی ستاسی اصلی قبله خو هم دغه کعبه وه، چه د حضرت ابراهیم علیه السلام له زمانی راهیسی پاتی ده، د ښو ورځو له مخی چه ستاسی قبله بیت المقدس تاکلی (مقرر) شوی وه، یوازی د امتحان دپاره وه، چه ښوک له تاسی امر منونکی پاتی کیږی؟ او ښوک مخ اړوی؟ نو هر ښوک له دوی ښخه چه پر ایمان باندی قائم پاتی دی، د هغوی درجی لوړی دی.

**(فائده):** په دی آیت کښی «لنعلم» چه د مستقبل صیغه ده، او په «حتی نعلم ـ فلیعلمن ـ لما یعلم الله ـ لنبلونکم ـ الا لنعلم» او نورو آیتونو کښی چه د مستقبل کلمی راغلی دی له دغو تولو ځنی له ورا داسی معلومیږی، چه نعوذ بالله د الله تعالیٰ علم پر دغو پیښو باندی وروسته حاصل شوی دی، او پخوا له دی نه پر دی شیانو د الله تعالیٰ علم نه وه، حال دا چه د پاک الله علم په هر شی قدیمی دی. ﴿وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا﴾ علماؤ د دی ځواب په ښو ډولو (طریقو) سره ورکړی دی ځینی له «علم» ښخه متمیز او بیل بیل کول مرادوی، ځینی ئی آزموینه او امتحان بولی، ځینو د داسی علم معنی رؤیت ګڼلی دی. ځینو دا د مضارع صیغی د ماضی په معنی تعبیر کړی دی. ځینو د «علم» حدوث نبی کریم صلی الله علیه وسلم او مؤمنانو ته راجع کړی دی. یا ئی د مخاطبینو په لوری ګرځولی دی. ځینی لوی محققین هغه «علم» حالی بولی، چه له وجود ښخه وروسته ښکاره او متحقق کیږی، او په هغه باندی جزا او سزا ـ مدح او ذم مترتب

کيږي. او هم دا ئې غوره کړې دي. ځينو راسخينو مدققينو د دې په نسبت دوه دقيق او انيق بيانونه فرمايلي دي د يوه خلاصه دا ده چه د ﴿ وَأَنَّ اللَّهَ قَدْ أَحَاطَ بِكُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا ﴾ له ارشاد سره سم ټول شيان له اوله تر آخره، له حقير او عظيم ځنې نيولې، تر قليل او کثير پورې د پاک الله په حضور کښې موجود دي، او د ټولو شيانو «علم» له هغه سره غونډ او يو ځای دی. د هغه په «علم» کښې هيڅ ډول (قسم) تقدم او تاخر بيخي نشته. مګر دا موجودات بيشکه په تناسب سره يو له بله وړاندې وروسته شميرل کيږي. خو د الله تعالیٰ په «علم» کښې ګرد (ټول) سره يو ځای لکه يو شي موجود دي. نو ځکه دلته ماضي، حال او استقبال ايستل بيخي غلط کار دی. البته په هغه تقدم او تأخر کښې چه دوی ئې يو له بله سره لري، دا درې واړه زماني بالبداهت جلا جلا (جدا جدا) څرګنديږي، نو الله تعالیٰ په خپل کلام کښې د مقام او حکمت په لحاظ کله په شيانو کښې له هغه څه نه چه ده ته معلوم دي له خپل علم سره سم کلام فرمايي او کله د دې واقعاتو د تقدم او تأخر لحاظ کوي، په ړومبنی صورت کښې د يوه دقيق فرق په لحاظ تل د ماضي يا د حال صيغه استعماليږي، او د استقبال صيغه هيڅ نه مستعمليږي، او په بل صورت کښې حال استعماليږي. په هر ځای کښې چه راتلونکې واقعات د ماضي په الفاظو سره بيان فرمايي لکه ﴿ وَنَادَىٰ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ ﴾ او داسې نور، نو هلته دا لحاظ شوی دی، چه د حق تعالیٰ په مخ کښې هغه ټول سره مستحضر او تر نظر لاندې دي. او هر چيرې چه تير شوي امور د استقبال په صيغه سره بيان شوي دي، لکه ﴿ إِلَّا لِنَعْلَمَ ﴾ او نور، نو هلته دا تر نظر لاندې ده چه هغه د ماقبل په نسبت مستقبل دی، مګر د الله تعالیٰ د علم په لحاظ مستقبل نه دی، چه د هغه د علم په نسبت د حدوث توهم وشي. د بل تحقيق خلاصه دا ده چه مونږ ته د اشياؤ علم په دوه ډوله (قسمه) حاصليږي يو بلا واسطه، بل په واسطه سره مثلاً مونږ کله اور په خپلو سترګو وينو، او کله مو له سترګو پټ وي، او د هغه د لوګي له ليدلو څخه د هغه په وجود باور کوو. او ډير ځلې د دې دواړو علم مونږ ته يو ځای او يو له بل سره ګډ حاصليږي. مثلاً کله چه مونږ اور پخپل مخ کښې ګورو ښکاره ده چه اور او لوګي ئې دواړه يو ځای زمونږ په نظر کښې راځي. نو په دې صورت کښې په دواړو قسمونو زمونږ علم په اور باندې حاصل شو هم بلا واسطه ځکه چه مونږ اور پخپلو سترګو ګورو، او هم په واسطه سره يعنې د اور علم د لوګي په واسطه. او دا دواړه علمه يو ځای څرګند شوي دي، وړاندې او وروسته پکښې له سره نشته دلته علم بالواسطه په علم بلا واسطه کښې داسې محو او ورک شوی دی چه هغه ته هيڅ فکر او خيال هم نه ورځي. هم داسې کله د دوو شيانو علم هم بلا واسطه يو ځای حاصليږي مثلاً که لوګي او اور دواړه سره يو ځای ووينو، په دې ډول (طريقه) کله د يوه شي علم بلا واسطه او د دوهم شي علم د اول شي د علم په واسطه يو ځای سره حاصليږي مثلاً د لوګي علم بلا واسطه او د اور علم د لوګي په واسطه يا د اور علم بلا واسطه او د لوګي علم د اور په واسطه دواړه يو ځای سره پيدا کيږي، مګر کله چه قلم پخپل لاس کښې آخلو او پرې ليکو، که څه هم لاس او قلم يو ځای سره خوځيږي، خو بيا هم داسې ويلې کيږي چه ړومبی لاس وخوځيده او بيا قلم د هغه په واسطه په

حرکت راغی. نو له دی کبله (وجی) سره له دی چه علم په دوو شیانو یو ځای حاصل شوی وی مکر بیا هم سلیم عقل هغه علم چه بی واسطی حاصل شوی وی خامخا پر هغه علم مقدم بولی چه په واسطه سره حاصل شوی وی. څه مهال (وخت) چه دا خبری درښکاره شوی نو اوس واورئ کله چه علیم خدای ته د تولو شیانو علم په دوارو دولو (طریقو) سره شته یعنی بلا واسطه او په واسطه سره یعنی د لوازمو سره له ملزوماتو او د ملزوماتو سره له لوازمو او دا دواړه علمونه له ازله سره برابر او یو ځای دی. اکر که د یوه شی بالواسطه علم په بلا واسطه علم کښی بیخی ورک او محو شی، او د داسی شی بلا واسطه علم او د بل شی له بالواسطی علم سره برابر او یو ځای دی او دواره قدیم دی کواکی بلاواسطه علم ئی په مذکوره طریقه سره مقدم، او بالواسطه علم ئی مؤخر وګڼئ نو هر چیری چه د الله تعالیٰ د علم ذکر د استقبال په صیغه یا د استقبال په معنی کښی ومونده شی، هغه د بالواسطی علم په لحاظ دی. او د زمانی په اعتبار هیڅ تفاوت پکښی نشته. او هر چیری چه ماضی یا حال مستعملیږی، هلته بلاواسطه علم مراد دی. او د بالواسطی علم په اعتبار سره د کلام په فرمایلو کښی دا حکمت دی چه د الله تعالیٰ د کلام مخاطبان بنیادمان دی، او انسانانو ته د زیاترو شیانو علم بالواسطه وی - نو ځکه هر چیری چه لوی خدای جل جلاله د خپل علم ذکر د استقبال په صیغه فرمایلی دی، نو دا همغه امور دی چه بنیادمانو ته بلا واسطه نشی معلومیدی. که په داسی ځایو کښی له انسانانو سره بلاواسطی د علم په اعتبار کلام وکړی شی، نو پر دوی پوره الزام نه اوړی، او هر چیری چه هسی حکمتونه او مصالح تر نظر لاندی نه وی، نو هلته د بلا واسطی علم په اعتبار د ماضی یا د حال صیغه استعمالیږی مکر کله چه انسانانو ته د هغو شیانو بلا واسطه علم هیڅ په لاس نشی ورتلی، او د دغو وسایطو علم پخوا د هغو له وجوده انسان ته امکان نه لری، او له هم دی امله (وجی) چه د هغو تول علوم سره برابر او یو ځای نه حاصلیږی، نو دوی پاک الله پخپلو ځانونو قیاسوی، او د استقبال د صیغی د اوریدلو ځنی د حدوث په فکر کښی لویږی او حیرانیږی چه د الله تعالیٰ په علم کښی حدوث ثابت شو- مکر هغه پوهان چه له هسی نکاتو ځنی واقف او پوه وی، دا تول سره سم او یو له بله سره مطابق ګڼی. والحمدلله.

---

وَإِن كَانَتۡ لَكَبِيرَةً إِلَّا عَلَى ٱلَّذِينَ هَدَى ٱللَّهُۗ

---

او بیشکه دی دا ګرځیدل (کعبی ته) هرومرو (خامخا) ډیر درانه مګر نه دی (درانه) په هغو کسانو چه سمه لاره ورته ښوولی ده الله

---

**تفسیر:** پرومبی زمونږ د رسول صلی الله علیه وسلم لپاره بیت الله شریف قبله مقرره شوی وه، بیا د څه وخت له پاره د امتحان په توګه (طور) بیت المقدس قبله مقرره شوه، او تول پوهیږی چه امتحان په هغه شی کښی وی، چه پر نفس باندی درووند وی، نو پاک الله فرمایی چه بیشکه د

کعبې شریفې په ځای بیت المقدس قبله گرځول، پر خلقو ښه ونه لګیدل. په عوامو مسلمانانو له دې سببه چه هغوی عموماً عرب او قریش، او د کعبې شریفې په افضلیت معتقد وو. کله چه په دوی د دوی له خیال، عادت، رسم او رواج څخه مخالف کار تحمیل شو، نو متأثر شول. او د خواصو د ویریدلو سبب دا ؤ چه د ابراهیمی له هغه دین څخه دا عمل مخالف ؤ، چه دوی د هغه په موافقت مامور وو. او هغه اخص الخواص چه د سلیم ذوق خاوندان، او د مراتبو د تمییز لیاقت ئې درلود (لرلو)، هغوی د بیت الله په مقابل کښې بیت المقدس ته دریدل، معکوسه ترقی ګڼله. مګر هغه ذوات چه په حکمتو او اسرارو پوهیدل، او د ایمانی فراست په رڼا د کعبې شریفې او د بیت المقدس په مراتبو بیل بیل خبر وو، او د دې دواړو په حقیقت او د مراتبو په فرق سره پوه وو، دوی پوهیدل چه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د ټولو انبیاؤ د کمالاتو جامع او د دوی رسالت ټولو قومونو او ملتونو بلکه ټول عالم ته شامل دی نو ځکه دا خبره هم ضروری ده چه د بیت المقدس د استقبال وار هم راشی، د هم دې خبرې له امله (وجی) زمونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم د معراج په شپه کښې له ټولو پخوانیو انبیاؤ سره هم ملاقات وکړ او هغه نه وروسته د بیت المقدس د استقبال حکم صادر شو. والله اعلم.

---

وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِيعَ اِيمَانَكُمْ اِنَّ اللّٰهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿۱۴۳﴾

---

او نه دی الله چه ضایع کړی ایمان (لمونځ) ستاسی (ای مؤمنانو!) بیشکه الله په خلقو (مؤمنانو) باندې خامخا ډیر مهربان، پوره رحم لرونکی دی.

---

**تفسیر:** یهودانو ویل کله چه مو اصلی قبله بیت الله وه، نو ستاسی د دومره مودې هغه لمونځونه چه د بیت المقدس په طرف مو کړی دی ټول ضایع شول ځینو مسلمانانو ته داسی شبهې ورولویدې. کله چه بیت المقدس زمونږ اصلی قبله نه وه، نو هغه مسلمانان چه په هغه حالت کښې مړه شوی دی، د هغوی په ثواب کښې به هم نقصان واقع شوی وی، البته ژوندی مسلمانان به په راتلونکی زمانه کښې د هغه تلافی وکړی. نو دا آیت نازل شو (کله چه تاسی یوازی د خپل ایمان او د پاک خدای د اطاعت له کبله (وجی) د بیت المقدس په لوری لمونځ کړی دی نو ستاسی اجر او ثواب ته څه زیان نه پیښیږی.

---

قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَآءِ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضٰهَا

---

په تحقیق سره وینو مونږ (بیابیا) ګرځول د مخ ستا په (طرف د) آسمان نو مونږ به وګرځوو هرومرو (خامخا) تا (هغې) قبلې ته چه ته ئې خوښوې.

**تفسير:** کله چه کعبه اعلیٰ قبله او له محمدی صلی الله علیه وسلم کمالاتو سره وړ (لائق) او مناسبه وه، نو له ټولو قبلو څخنی افضله او د ابراهیم علیه السلام قبله وه. له بل لوری یهودانو طعنی او پیغورونه ورکول او ویل یی «دا نبی چه زمونږ له شریعت څخنی مخالف او له ابراهیمی دین سره سم کار کوی ولی زمونږ د قبلی په لوری لمونځ کوی؟» نو ځکه د دغو سببو له امله (وجی) په هغه زمانه کښی چه دوی د بیت المقدس په لوری لمونځ کاوه نو د هغه په زړه کښی تل داسی خبری ګرځیدلی که د الله تعالیٰ له لوری حکم راکړی شی چه بیا د کعبی په لوری لمونځ وکړم. او په دی شوق کښی به ئی کله کله د آسمان په لوری مخ اړاوه، او هر طرف ته به ئی کتل، چه ښائی په هغی پرښتی باندی ئی سترګی ولګیږی چه داسی زیری ورکړی، نو په دی مناسبت پر دوی دغه آیت نازل شو، او د کعبی شریفی د استقبال دا حکم راغی.

## فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ

نو وګرځوه مخ خپل په لوری د مسجدالحرام (کعبی ته په لمانځه کښی).

**تفسير:** یعنی د کعبی شریفی په لوری. مسجد الحرام ئی ځکه بولی چه هلته مقاتله کول، د حیواناتو ښکار کول، د ونو او وښو پری کول او نور شیان حرام دی. او بل هیڅ یو مسجد دومره عزت او حرمت نه لری لکه چه مسجد الحرام د حرمت او عزت ځای دی. کله چه د قبلی د تحویل دا حکم نازل شو رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له معظمو اصحابو سره د بنی سلمة په مسجد کښی د ماسپښین د جماعت په لمانځه ولاړ وو، او دوه رکعته ئی د بیت المقدس په لوری ادا کړی وو، په هم دی لمانځه کښی ئی سره له خپلو مقتدیانو د کعبی شریفی په لوری مخ وګرځاوه او پاتی دوه رکعتونه ئی د مسجد الحرام په لوری پای (آخر) ته ورسول. نو په هم دی مناسبت د دی مسجد نوم (ذوقبلتین) یا (مسجد القبلتین) کیښود شو. یعنی د دوو قبلو مسجد.

## وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ

او په هر ځای کښی چه اوسئ نو وګرځوئ (تاسی) مخونه خپل (په لمانځه کښی) په لوری د هغی (کعبی)

**تفسير:** یعنی په سفر یا په حضر کښی ـ په مدینی منوری یا په بل ښار کښی، په وچه یا په دریاب کښی په غره یا په ډګر (صحرا) کښی ـ یا پخپله بیت المقدس یا په بل کوم ښار کښی ـ هر چیری چه یئ د بیت الحرام په لوری لمونځ ادا کړئ!

وَإِنَّ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ لَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ الْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ ۗ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا يَعْمَلُونَ ﴿١٤٤﴾

او بیشکه هغه کسان چه دوی ته ورکړی شوی دی کتاب خامخا پوهیږی دوی چه بیشکه دا (استقبال الکعبه) حق دی له لوری د رب د دوی او نه دی الله ! غافل له هغو کارو څخنی چه کوی ئی دوی.

**تفسیر:** یعنی هغه اعتراضونه چه کتابیان ئی د قبلی د تحویل په نسبت کوی هغوی ته هیڅ غوږ مه ږدئ! ځکه چه د هغوی په آسمانی کتابو کښی دا خبره ښکاره ده چه ختم المرسلین صلی الله علیه وسلم به د څه مودی له مخید بیت المقدس په لوری لمونځ کوی. او په پای (آخر) کښی به د کعبی شریفی په لوری لمونځ کوی، او دا هغو تولو ته معلوم دی چه د محمدی امت اصلی او دائمی قبله به د ابراهیمی دین سره سمه وی، نو ځکه هغوی دا د قبلی تحویل هم حق گڼی، خو د رخی (کینی) او حسد له مخی هر څه ئی چه په خوله راځی هغه وایی الله تعالیٰ د دوی په تولو خبرو ښه عالم دی. او د دوی د ویناوو نتایج به یوه ورځ هغوی ته څرگند کړی.

وَلَئِنْ أَتَيْتَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ بِكُلِّ آيَةٍ مَّا تَبِعُوا قِبْلَتَكَ ۚ
وَمَا أَنتَ بِتَابِعٍ قِبْلَتَهُمْ ۚ وَمَا بَعْضُهُم بِتَابِعٍ قِبْلَةَ بَعْضٍ ۚ

او قسم دی خامخا که ته راوړی هغو کسانو ته چه ورکړی شوی دی دوی ته کتاب په هر قسم دلیل سره نه به شی تابع دوی د قبلی ستا او نه ئی ته (ای محمده !) تابع کیدونکی د قبلی د دوی او نه دی څینی د دوی تابع کیدونکی د قبلی د څینو (نورو).

**تفسیر:** یعنی کله چه خبره داسی ده چه کتابیان دا د قبلی استقبال حق گڼی، خو د رخی (کینی)، عناد او حسد له امله (وجی) د هغه له حقیقت څخنی سترگی پټوی، نو له هغوی څخنی د خپلی قبلی د موافقت هیله (امید) بیخی مه لرئ!، دوی خو داسی متعصب دی، که ته هغه تولی ممکن الوقوع نخښی دوی ته وښیی، خو بیا هم ستا قبله نه منی. دوی خو په دی غوښتنه او آرزو کښی دی، چه په څه ډول (طریقه) تاسی د خپل ځان تابع وگرځوی، نو له هم دی امله (وجی) داسی ویناوی کوی «که ته زمونږ په موجوده قبله باندی تینگ پاتی کیدی، نو مونږ به باور کاوه چه ته همغه موعود نبی یی. ښه! د دوی مطلب دا ؤ چه ښائی ته بیا د بیت المقدس

په لوری لمونځ وکری!» مگر د دوی دا خیال چتی (بیکاره) او باطل دی. ته هیڅکله د هغوی د قبلی متابعت نشی کولی، ځکه چه دا د کعبی استقبال تر قیامته پوری نشی منسوخ کیدای. او کتابیان دی د نورو متابعت د خپلی قبلی په نسبت وروسته پریږدی رومبی دی پخپلو منځو کښی دوی د قبلی جگړه صافه کړی. ځکه چه کتابیان یو له بله سره د قبلی په امر کښی ډیری جگړی او خبری لری. د یهودانو قبله د بیت المقدس صخره ده. او د نصرانیانو قبله د بیت المقدس هغه شرقی خوا ده چه د حضرت عیسیٰ علیه السلام د روح نفخ پکښی شوی وه. کله چه دوی پخپلو منځو کښی نه جوړیږی، نو له مسلمانانو ځنی د دی نقیضو متابعت غوښتل، یوازی جهل او حماقت دی.

---

وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُم مِّن بَعْدِ مَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ إِنَّكَ إِذًا لَّمِنَ الظَّالِمِينَ ﴿١٤٥﴾

---

او هرومرو (خامخا) که بالفرض تابع شی ته د آرزوگانو د دوی وروسته له هغه چه راغی تاته له علمه (چه وحی دی) بیشکه ته به دغه وخت کښی خامخا ئی له ظالمانو ځنی.

---

**تفسیر:** یعنی قطع نظر له دغو دلائلو ځنی که د لری مودی له مخی دا ومنله شی چه نعوذ بالله زمونږ رسول صلی الله علیه وسلم د کتابیانو د قبلی متابعت د وحیی له نزوله او یقینی علم څخه په خلاف وکړی، نو په دی محال تقدیر دوی بیشکه د بی انصافانو له ډلی ځنی شمیرل کیږی، او له یو نبی ځنی د داسی شنیع امر کیدل ممکن الوقوع نه دی. نو ښکاره شوه چه د کتابیانو د قبلی متابعت له تاسی ځنی له سره ممکن نه دی. ځکه چه بیخی له علمه چپ دی. یعنی جهل او گمراهی ده.

---

الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءَهُمْ ۖ وَإِنَّ فَرِيقًا مِّنْهُمْ لَيَكْتُمُونَ الْحَقَّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿١٤٦﴾ الْحَقُّ مِن رَّبِّكَ ۖ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِينَ ﴿١٤٧﴾

---

هغه کسان چه ورکړی دی مونږ دوی ته کتاب پیژنی دوی هغه (یعنی محمد او

اسلام د دوی د کتابو په تعریف) لکه چه پیژنی دوی ځامن خپل او په تحقیق چه یوه ډله له دوی (یعنی کتابیانو) ځنی خامخا پټوی حق (وصف د محمد) حال دا چه دوی پوهیږی (په حقانیت د اسلام او نبوت د محمد «صلی الله علیه وسلم» حق ثابت دی له رب ستا نو مه کیږه ته خامخا له شک کوونکو څخه.

**تفسیر:** یعنی که تاسی داسی خیال لرئ چه کاشکی د مسلمانانو کعبه کتابیان هم ومنی، او د هغی قبلی توب حقیقت ته ورتسلیم شی، او نورو ته څه شبهی او اندیښنی نه وراچوی چه زما په موعوده نبوت کښی څه تردد او خلجان پاتی نه شی، نو وپوهیږه چه کتابیان تا ډیر په ښه شان سره پیژنی، او ستا د نسب ـ قبیلی ـ مولد ـ مسکن ـ شکل ـ اوصاف او له تولو احوالاتو ځنی په ښه شان سره پوه او خبر دی، چه د دی علامو او ښه پیژندګلوی له امله (وجی) هغوی ستاسی په موعوده نبوت ښه عالم او باور لری، او داسی مو ښه پیژنی لکه چه په ډیرو هلکانو کښی خپل هلکان بی له تردده او تأمله پیژنی، مګر دا خبره ځینی ښکاروی او ځینی دا حقه حقیقت په لوی لاس پټوی، مګر د دوی له دی حق پټولو ځنی هیڅ شی په لاس نه ورځی، لیکن حقه خبره خو همغه ده چه د الله تعالیٰ له لوری وی. کتابیان ئی منی که ئی نه منی. د دوی له مخالفت ځنی هیڅ اندیښنه مه کوه! او هیڅ تردد پکښی مه لره!

وَلِكُلٍّ وِجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيهَا فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ أَيْنَ مَا تَكُونُوا يَأْتِ بِكُمُ اللَّهُ جَمِيعًا إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٤٨﴾

او هر یوه (امت) لره یوه قبله ده چه دی مخ ګرځوونکی دی هغی ته (په لمانځه کښی) نو تاسی وړاندی شئ! (یو تر بله) نیکیو ته هر چیرته چه یئ (تاسی) رابه ولي تاسی الله تول (په قیامت کښی دپاره د جزاء د اعمالو) بیشکه چه الله په هر شی باندی ښه قادر دی.

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ هر ملت لره یوه قبله ټاکلی (مقرر کری) ده، چه د هغی په لوری د عبادت په وخت کښی مخ وګرځوی. یا هغه مسلمان ملتونه چه د کعبی په بیلو بیلو اړخونو لکه شرق، غرب، شمال او جنوب کښی پراته دی نو په دی باب بحث کول، یا پخپله قبله او سمت باندی جګړی ته ملا ترل، عبث او خوشی خبره ده. هو! هغه نیکی چه مطلوب او مقصود ده، د هغی په لوری پیش قدمی او وړاندی تګ کول په کار دی. او له داسی جګړو او بحثونو څخه مخ اړول ښه کار دی. په هر ځای او په هر لوری او د هری قبلی او کعبی په هر اړخ کښی چه یئ

الله تعالیٰ مو د قیامت په ورځ کښې ګرد (تول) سره تولوی او د حشر میدان کښې مو مخامخ دروی، او ستاسی لمونځونه داسی ګنل کیږی، لکه چه تاسی ګردو (تولو) په یوه لوری مخ ګرځولی وی، نو بیا په داسی خبرو کښې په خوشو جګړو بوخت (مشغول) یئ!

وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۖ وَإِنَّهُ لَلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ ۗ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿١٤٩﴾ وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ وَحَيْثُ مَا كُنتُمْ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ

او له هر ځایه چه ووځی ته (ای محمده!) نو وګرځوه ته مخ خپل په لوری د مسجد حرام (په لمانځه کښې) او بیشکه دا مخ ګرځول کعبی ته خامخا حق دی له طرفه د رب ستا او نه دی الله بی خبر له هغه شی چه تاسی ئی کوئ او له هر ځایه په هر وخت کښې چه ووځی ته (ای محمده! سفر ته، او قصد د لمانځه وکړی) نو وګرځوه ته مخ خپل په لوری د مسجد حرام (په لمانځه کښې) او په هرځای او هر وخت کښې چه یئ (ای مومنانو) نو وګرځوئ (تاسی) مخونه خپل په لوری د هغی (کعبی)

**تفسیر:** د قبلی تحویل ئی مکرر او بیا بیا ځکه وفرمایه چه د هغه علل او عوامل متعدد دی. نو د هر علت د ځرګندولو لپاره دغه حکم تکرار شوی دی له ﴿ قَدْ نَرَىٰ تَقَلُّبَ وَجْهِكَ ﴾ الآیه ـ ځخه معلومیږی چه د خپل رسول د خوښی او رضا او د هغه د تکریم له پاره یی دا حکم کړی دی. د ﴿ وَلِكُلٍّ وِجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيهَا ﴾ ځنی معلومیږی چه عادت الله په هم دی باندی جاری دی چه هر ملت او هر پیغمبر ته چه د مستقل شریعت خاوند وی د هغه له شان سره مناسبه مستقله قبله تاکی (مقرروی)، او د ﴿ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَيْكُمْ حُجَّةٌ ﴾ ځخه معلومیږی چه د دی ذکر شوی حکم علت دا دی چه د مخالفانو الزام عائد نشی یا به د دی تکرار سبب داسی وی چه اول د قبلی مسئله د خاص اهتمام وړ (لائق) ده دوهم په الٰهی احکامو کښې نسخ واقع کیدل، د ناپوهانو له پوهی ځنی خورا (ډیر) لوړ کار دی. دریم د قبلی تحویل اوله نسخه ده چه په محمدی شریعت کښې ظاهره شوی ده نو ځکه د هغی بیا بیا تکرار او تاکید عین حکمت او بلاغت دی. یا به دا وجه وی چه په اول آیت کښې د احوالو تعمیم، او په دوهم آیت کښې د امکنه ؤ تعمیم، او په دریم آیت کښې د ازمنه ؤ تعمیم مراد دی.

لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَيْكُمْ حُجَّةٌ إِلَّا الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْهُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِي

د دی له پاره چه نوی خلقو (یعنی یهودانو او مشرکانو) ته په تاسی هیڅ اعتراض مګر (اعتراض) د هغو کسانو چه ظالمان دی له دوی څخنی نو مه ویریږئ له (اعتراضو) د دوی څخه او وویریږئ له ما څخنی (او زما نافرمانی مه کوئ!)

**تفسیر:** یعنی کعبی ته مخ ګرځول د دی لپاره دی چه په توریت کښی ذکر شوی ؤ چه د حضرت ابراهیم علیه السلام قبله بیت الحرام دی، او آخری زمانی نبی صلی الله علیه وسلم ته به هم د هغه په لوری د مخ ګرځولو حکم کیږی، که په محمد صلی الله علیه وسلم باندی د قبلی د تحویل حکم نه کیدی، نو یهودانو به خامخا په دوی الزام اړاوه، له بل لوری به د مکی مشرکانو داسی ویل د حضرت ابراهیم علیه السلام قبله خو کعبه وه، دا نبی چه د ابراهیمی دین مدعی دی، نو د هغه له قبلی څخنی ولی مخالفت کوی؟ نو اوس د قبلی د تحویل د حکم له کبله (وجی) دوی دواړو ته د اعتراض ځای پاتی نشو. مګر بی انصافان اوس هم پر تاسی باندی په څه ناڅه الزام اړولو کښی بوخت (مشغول) دی. مثلاً قریشو به ویل چه مسلمانانو ته زمونږ د قبلی حقانیت اوس ورښکاره شو. چه غوره ئی کره. هم داسی به زمونږ نور احکام هم ورو، ورو ومنی. او یهودان وایی چه مسلمانانو وروسته له دی چه دوی ته زمونږ د قبلی حقانیت ښکاره شو او هغه ئی ومنله نو یوازی د رخی، (کینی) حسد او نفسانی غوښتنو له امله (وجی) ئی هغه پریښوده، نو د داسی بی انصافانو د دغسی اعتراضونو هیڅ پروا ونه کړئ!. او تل زمونږ د حکمونو تابع اوسئ.!

وَلِأُتِمَّ نِعْمَتِي عَلَيْكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿۱۵۰﴾

او له پاره د دی چه پوره کړم زه نعمت خپل په تاسی باندی (په هدایت سره) او ښایی چه تاسی لار ومومئ (حق ته)

**تفسیر:** یعنی دا قبله مو تاسی ته د دی له امله (وجی) مقرره کړی ده چه د دښمنانو له پیغورونو څخنی خلاص شئ او د هغو په سبب زمونږ د انعامونو، اکرامونو مستحق او د انوارو او هدایاتو پوره وړ (لائق) شئ!.

كَمَآ اَرۡسَلۡنَا فِيۡكُمۡ رَسُوۡلًا مِّنۡكُمۡ يَتۡلُوۡا عَلَيۡكُمۡ اٰيٰتِنَا وَيُزَكِّيۡكُمۡ وَيُعَلِّمُكُمُ الۡكِتٰبَ وَالۡحِكۡمَةَ وَيُعَلِّمُكُمۡ مَّا لَمۡ تَكُوۡنُوۡا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿١٥١﴾

لکه چه لیږلی دی مونږ په تاسی کښی رسول له جنس د تاسی (لپاره د اتمام د نعمت خپل) چه لولی په تاسی آیتونه (قرآن) زمونږ او پاکوی تاسی (له کفره) او ښیی تاسی ته کتاب (قرآن او حلال او حرام) او (د هغه عمیق اسرار او) احکام او ښیی تاسی ته هغه شیان چه نه وئ تاسی چه پری پوهیدئ.

**تفسیر:** یعنی د نعمت د اتمام ـ او د هدایت تکمیل پر تاسی داسی شوی دی، لکه چه پخوا له دی نه پر تاسی باندی د هدایت او د نعمت اتمام شوی ؤ، چه په تاسی کښی داسی یو رسول مبعوث شوی دی چه تاسی ته د الله تعالیٰ احکام دربښیی، او له بدو کارو ځنی مو پاکوی او ژغوری (محفوظوی) ښو مو علماً او عملاً پوره او تکمیل کری.

فَاذۡكُرُوۡنِىۡٓ اَذۡكُرۡكُمۡ وَاشۡكُرُوۡا لِىۡ وَلَا تَكۡفُرُوۡنِ ﴿١٥٢﴾ ع

نو یاد کړئ (تاسی) ما (په قلبی او بدنی طاعت سره) نو زه به هم یاد کړم تاسی (په ثواب سره) او شکر وباسئ! ما لره په (طاعت) او مه کافران کیږئ په ما باندی (په معصیت سره)

**تفسیر:** کله چه زمونږ د لوری په تاسی مکرراً د نعمت اتمام شوی دی، نو اوس پر تاسی هم لازم دی چه ما په ژبه، زړه، ذکر، فکر او هر ډول (طریقه) سره یاد کړئ! او حکم می ومنئ! چه مونږ به هم تاسی یادوو، او نوی نوی رحمتونه او عنایتونه پر تاسی کوو. او زما د نعمتو شکریه په ښه شان سره ادا کړئ! او زما له ناشکری او معصیت ځنی ځانونه وژغورئ (محفوظ کری)!.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوا اسۡتَعِيۡنُوۡا بِالصَّبۡرِ وَالصَّلٰوةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِيۡنَ ﴿١٥٣﴾

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو) مدد وغواړئ

(تاسی) له (الله څخه) په صبر (له معصیته په طاعت او مصیبت) او لمانځه سره بیشکه چه الله له صبر کوونکو سره دی.

**تفسیر:** کله چه ذکر او شکر او د کفران ترک چه په لمړی آیت کښی ئی ذکر راغلی دی تولو شرعی طاعاتو او منهیاتو ته شامل دی چه د هغوی په ځای کول ډیر سخت کار دی، نو د هغه د سهولت او آسانی لپاره ئی دا طریقه راښوولی ده، چه د صبر او صلوٰة په وسیله، او د هغو د مداومت په ذریعه تول کارونه په تاسی آسانیږی. او په دی آیت کښی دی خبری ته اشاره ده چه په جهاد کښی زیار (محنت) ویاسئ! او په هغه کښی صبر لویه درجه لری.! چه د هغه ذکر وروسته راځی.

وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتٌ ۚ بَلْ أَحْيَاءٌ وَلَٰكِن لَّا تَشْعُرُونَ ﴿١٥٤﴾

او مه وایئ تاسی هغه چاته چه ووژل شی په لاره د الله (جهاد) کښی چه (دوی) مړه دی (دوی مړه نه دی) بلکه ژوندی دی ولیکن تاسی نه پوهیږئ (د دوی په ژوندانه)

**تفسیر:** یعنی هغه څوک چه د الله تعالیٰ په لار کښی خپل ځان وژنی هغه مړ نه دی بلکه ژوندی دی مګر تاسی د هغه په اخروی ژوندانه خبر نه یئ! او نه ئی کیفیت درښکاره دی! او دا هم د صبر نتیجه ده.

وَلَنَبْلُوَنَّكُم بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنفُسِ وَالثَّمَرَاتِ ۗ

او خامخا مونږ آزمویو هرومرو (خامخا) تاسی په یوه شی چه هغه عبادت دی (د دښمن) له ویری او له لوږی (قحط) او له کموالی د مالونو (په راز راز (قسم قسم) آفتونو سره) او د نفسو (په قتل، موت، مرض او نورو) او د میوو (په آسمانی او ځمکنی آفتونو سره)

**تفسير:** يا به مراد د الله خوف، د روژې لوږه، د زکوٰة نقصان، د بدن امراض، د اولاد موت وي چه ثمرة الفواد ئې بولي ړومبي د هغو کسانو ذکر ؤ، چه د صبر لوړې مرتبې ئې حاصلې کړې دي. يعني «شهيدان» اوس فرمايي چه الله تعالىٰ عموماً په لږ لږ تکليف او مصيبت سره وخت په وخت له تاسې څخه امتحان آخلي او د صبر آزموينه مو کوي، ځکه چه د صابرينو په ډله کښې داخليدل، څه آسان کار نه دي، نو له هم دې امله (وجې) ئې لا له پخوا څخه تنبيه وفرمايله!

وَبَشِّرِ الصّٰبِرِيْنَ ﴿١٥٥﴾ الَّذِيْنَ اِذَآ اَصَابَتْهُمْ مُّصِيْبَةٌ ۙ قَالُوْٓا اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ
رٰجِعُوْنَ ﴿١٥٦﴾ اُولٰٓئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوٰتٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ ۟ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُوْنَ ﴿١٥٧﴾

او زيرى ورکړه صبرکونکو ته (په جنت سره صبر کوونکې) هغه کسان دي کله چه وروړسيږي دوى ته څه مصيبت - نو وايي دوى بيشکه مونږ (مملوک) د الله يو او بيشکه مونږ هم ده (الله ته) بيا ورتلونکي يو (په آخرت کښې) دغه کسان په هم دوى دي عنايتونه (بخښنې) له (طرفه د) رب د دوى او مهرباني ده او دغه کسان هم دوى دي سمه لاره موندونکي (حق ته).

**تفسير:** يعنې هغه کسان چه په دغو مصائبو يې صبر وکړ، او د نعمت ناشکرى يې ونه کړه، بلکه دغه مصيبتونه يې د ذکر او شکر وسيله وګرځول نو اى محمده صلى الله عليه وسلم زمونږ له لورې هغوى ته زيرى ورکړه!.

اِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَآئِرِ اللّٰهِ ۚ

بيشکه صفا او مروه (چه په مکه کښې دوه غرونه دي) له نخښو (د عبادته) د الله څخنې دي.

**تفسير:** پخوا له دې د قبلې د تحويل او په نورو قبلو باندې د کعبې د افضليت ذکر ؤ، اوس د هغه د محل او د حج او عمرې د ادا کولو ذکر فرمايي څو چه د ﴿ وَلِاُتِمَّ نِعْمَتِيْ عَلَيْكُمْ ﴾ تصديق او تکميل په ښه ډول (طريقه) سره وشي. يا دا چه پخوا له دې ئې د صبر فضيلت ذکر وفرمايه! اوس فرمايي وګورئ! صفا او مروه چه په «شعاير الله» کښې داخل دي او

په حج او عمره کښې د دوی په منځ کښې له دې سببه «سعی» کول ضروری دی، چه هم دا د صابرینو یعنی بی‌بی هاجری او د هغې د زوی حضرت اسمٰعیل علیهما السلام له آثارو څخنی دی، په تفسیر، حدیث او تاریخ کښې دا قصه په تصریح سره مذکوره او مشهوره ده چه د هغې له لیدلو څخنی د ﴿ اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِیْنَ ﴾ تصدیق په ښه شان سره کیږی.

فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ اَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ اَنْ يَّطَّوَّفَ بِهِمَا ۗ وَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا ۙ فَاِنَّ اللّٰهَ شَاكِرٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۵۸﴾

نو هر څوک چه (اراده د) حج وکړی د بیت (الله تعالیٰ) یا (اراده د) عمری (وکړی) نو نشته هیڅ ګناه په ده باندی (په دی کښې) چه طواف وکړی په دی دواړو، او هر څوک چه وکړی په خپله خوښه څه نیکی نو بیشکه الله شکر قبلوونکی، ښه عالم دی.

**تفسیر:** «صفا» او «مروه» په مکه معظمه کښې دوه غرونه دی. د مکی خلق د حضرت ابراهیم علیٰ نبینا وعلیه الصلٰوة والسلام له زمانی راهیسی همیشه حجونه کوی، او د حج کولو په وخت کښې په دغو غرونو هم طواف کوی. د کفر په زمانه کښې کافرانو په دغو غرونو دوه بتان درولی وو چه د هغو تعظیم به ئی کاوه، او داسی به ئی ګڼل، چه دا طواف د هغو دواړو د تعظیم لپاره دی. کله چه د اسلام پاک دین خپور (خور) شو، او خلق له بت پرستی څخنی تائب شول، نو داسی خیال وشو، چه د «صفا» او «مروه» طواف د هغو بتانو د تعظیم لپاره ؤ، نو څرنګه چه د بتانو تعظیم حرام شو، نو ښایی چه د «صفا» او «مروه» تعظیم هم ممنوع شی ځکه چه دا خبره هغوی ته معلومه نه وه چه د «صفا» او «مروه» طواف په اصل کښې د حج له پاره ؤ، او کفارو که له خپله جهالته پر دوی باندی بتان درولی وو، هغه تری لری کړل شول. کله چه د مدینی منوری انصارو د کفر په زمانه کښې هم د صفا او مروه طواف بد ګاڼه، نو د اسلام په زمانه کښې هم دوی ته د هغوی د طواف په نسبت څه اندیښنه پیدا شوه، او د رسول الله مبارک څخه ئی په دی باره کښې داسی هدایت وغوښت «مونږ پخوا د «صفا» او «مروه» طواف نه کاوه، اوس د هغه په نسبت څه هدایت راکوی؟» په دی مناسبت دا آیت نازل شو، او دواړو فرقو ته دا وروښوول شول، چه د «صفا» او «مروه» په طواف کښې کومه ګناه او خرابی نشته، بلکه دا په اصل کښې د الله تعالیٰ نخښی دی او د هغوی طواف کول په کار دی.

اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْتُمُوْنَ مَاۤ اَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنٰتِ وَالْهُدٰى

## مِنۢ بَعْدِ مَا بَيَّنّٰهُ لِلنَّاسِ فِي الْكِتٰبِ

بیشکه هغه کسان چه پټوی (دوی له خلقو څخه) هغه شی چه نازل کړی دی مونږ له ښکاره ؤ (احکامو او واضحو دلائلو) او د هدایت (خبری) پس له هغه چه بیان کړی دی مونږ هغه لپاره د خلقو (یعنی بنی اسرائلو) په کتاب (توریت) کښی

**تفسیر:** له دغو خلقو څخه یهودان مراد دی، چه دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رسالت تصدیق او د قبلی د تحویل خبره او نور چه په توریت کښی ؤ، پټول. او هم دا راز (قسم) هغه کسان چه د دنیوی اغراضو له امله (وجی) ئی د پاک الله حکمونه پټول، هغوی هم د دغه آیت په حکم کښی داخل دی.

## أُولٰٓئِكَ يَلْعَنُهُمُ اللّٰهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللّٰعِنُوْنَ ۝

دغه کسان چه دی لری کوی دوی الله له رحمت خپل او لعنت وایی پر دوی لعنت ویونکی (له پرښتو، انسانانو، پیریانو او نورو مخلوقاتو).

**تفسیر:** لعنت کوونکی له جنیانو، انسانانو، ملائکو بلکه له ټولو ذیروحو شیانو څخه عبارت دی ځکه چه د دوی د حق پټولو له وباله په عالم (نړی) کښی قحط، وبا، طاعون او نوری راز راز (قسم قسم) بلاگانی خپریږی (خوریږی)، نو له دی سببه، نه یوازی حیواناتو ته، بلکه تر جماداتو پوری هم تکلیف او صدمه ورپیښیږی، نو ځکه ټول کائنات پر دوی باندی لعنت کوی.

## إِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا وَأَصْلَحُوْا وَبَيَّنُوْا فَأُولٰٓئِكَ أَتُوْبُ عَلَيْهِمْ

مگر هغه کسان چه بیرته وگرځیدل (له شرکه او پټولو د نعمت) او نیک ئی کړ عمل خپل او بیان ئی کړه (حقه خبره) نو دغه کسان (چه دی) رجوع به وکړم زه په رحمت سره په دوی باندی.

**تفسیر:** یعنی که څه هم د دوی د حق پټولو له امله (وجی) ځینی خلق په گمراهی کښی لویږی خو کله چه دوی د حق له پټولو څخه توبه وباسی، او د حق اظهار په ښه ډول (طریقی) سره وکړی نو مونږ د لعنت پر ځای، په هغوی باندی خپل رحمت نازلوو، ځکه چه مونږ تواب او رحیم یو!.

وَأَنَا التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿١٦٠﴾ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَمَاتُوا وَهُمْ كُفَّارٌ أُولَٰئِكَ عَلَيْهِمْ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴿١٦١﴾

او هم دا زه ښه توبه قبلوونکی پوره رحم لرونکی یم (د توبې په منلو او د رحمت په نزول) بیشکه هغه کسان چه کافران شوی او مړه شوی دی حال دا چه دوی کافران وو ( په وخت د مرګ کښې) دغه کسان (چه دی) پر دوی باندی دی لعنت د الله او (لعنت) د ملائکو او (لعنت) د خلقو تولو. (یعنی د تولو هغو مخلوقاتو چه لعنت ته ئی اهمیت ورکاوه شی).

**تفسیر:** یعنی هغه څوک چه پخپله حق پټ کړی، یا د بل چا د حق پټولو له سببه ګمراه شی، او تر آخره پوری کافر پاتی شی، او توبه ئی په برخه نه شی، نو هغه تل ملعون او جهنمی دی. وروسته له مرګه د هغه توبه نه قبلیږی. پرته (علاوه) له لومړی (اولی) فرقی چه د توبی له امله (وجی) له دوی څخه لعنت منقطع کیږی ځکه چه دوی پخپل ژوندانه کښې تائب شوی دی.

خَالِدِينَ فِيهَا لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْظَرُونَ ﴿١٦٢﴾

حال دا چه همیشه به وی دوی په لعنت (یا اور) کښې نه به سپکاوه شی له دوی ځنی عذاب او نه به دوی ته مهلت ورکړ شی.(د توبې، یا به په رحمت سره ورته نه کتل کیږی).

**تفسیر:** یعنی په دوی باندی به عذاب یو رنګ او متصل وی، او داسی به نه کیږی چه د دوی په عذاب کښې به څه لږوالی پیښیږی، یا کومه شیبه به د هغوی عذاب لری کیږی.

وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۖ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَٰنُ الرَّحِيمُ ﴿١٦٣﴾

او معبود ستاسی معبود یو دئ نشته بل څوک لایق د عبادت مګر هم دی خورا (ډیر) مهربان پوره رحم لرونکی دی.

**تفسیر:** یعنی ستاسی د تولو حقیقی معبود داسی یو ذات دی، چه د تعدد احتمالات له سره پکښې نشته. نو هر هغه څوک چه هغه له احکامو ځنی سر غړوی، هغه بیخی مردود دی او تباه

کيږي. که بل کوم معبود وی، نو امکان ئی درلود (لرلو)، چه له هغه ځنی د نفعی څه هیله (امید)او توقع شوی وی. دا خو پاچاهی ـ باداری (نوابی) ـ استاذی او پیری نه دی، چه که په یوه ځای کښی موافقت ونه شو، نو بل ځای ته به لاړ شی، دا خو معبودیت او الوهیت دی. نه تاسی د ده له ذاته پرته (علاوه) بل کوم معبود نیولی شئ! او نه له ده څخه پرته (علاوه) له بل چا ځنی د څه خیر او ښیګڼی (فائدو) توقع کولی شئ!. کله چه ﴿ وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ﴾ آیت نازل شو، نو د مکی معظمی کفارو تعجب وکړ، چه د ټول عالم معبود او د ټولو خلقو کار جوړوونکی به څرنګه یو ذات شی؟ د دی خبری دلیل څه شی دی؟.
د دوی د دی غوښتنی په اثر د ﴿ إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ ﴾الآیه ـ آیت نازل، او په هغه کښی پاک الله د خپل قدرت څه آثار بیان کړل.

---

إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي
فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنْفَعُ النَّاسَ وَمَا أَنْزَلَ اللَّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ مَاءٍ فَأَحْيَا بِهِ
الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِنْ كُلِّ دَابَّةٍ وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ
وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿١٦٤﴾

---

بیشکه په پیدا کولو د آسمانو او (په پیدا کولو) د ځمکی کښی او په اختلاف د شپی او د ورځی کښی ( چه اوړدیږی، لنډیږی پرله پسی رانا او تیاره راځی، یخیږی او ګرمیږی) او په بیړیو (کشتو) هغو کښی چه روانی وی په دریاب کښی په هغه سره چه فائده رسوی خلقو ته او په هغه څه کښی چه نازل کړی دی الله له (طرفه د) آسمانه له اوبو ځنی نو ژوندی. (زرغونه) کړی ئی ده په هغو (اوبو) سره ځمکه وروسته د مړګه (وچوالی) د هغی او خپاره (خواره) کړی ئی دی په دی ځمکه کښی له هر قسمه خوځیدونکو (حیواناتو) څخه، او په ګرځولو(بدلولو) د بادو کښی او په (درولوـد) هغی وریځی چه مسخره کړی شوی ده په مینځ د آسمان او د ځمکی کښی هرومرو (خامخا) دلیلونه دی (په وحدانیت باندی) دپاره د هغه قوم چه د عقل خښتنان (خاوندان) دی.

**تفسیر:** یعنی د آسمان په دومره وسیع او هسک (اوچت) او بی له ستنی پیدا کولو کښی او د ځمکی په دومره پراخ او مضبوط جوړولو کښی او له ځمکی ځنی د اوبو په راخوتولو (راویستلو) او راپورته کولو او بهولو کښی او د شپی او ورځی په بدلولو، لندولو او اوږدولو کښی ـ او په سیندونو کښی ـ د بیړیو په تګ او راتګ کښی او له آسمان ځنی د اوبو په اورولو کښی ـ او د باران په اوبو سره د ځمکی د مخ په شنه کولو کښی، او په هغی کښی د ټولو حیواناتو په ژوندانه او هستوګنه او د دوی په توالد او تناسل کښی او د نورو موجوداتو په وجود او د هغوی په نشواونما (وده) کښی، او له مختلفو جهاتو ځنی په راز راز (قسم قسم) هوا او بادونو چلولو کښی او د آسمان او ځمکی تر مینځ د وریځو په درولو کښی په دی ټولو او نورو شیانو کښی د الله تعالیٰ په وحدانیت او د ده په قدرت او حکمت او رحمت باندی هغه چا لره لوی لوی دلائل او دیر شواهد شته چه د عقل او فکر خاوندان وی.

**(فائده:** په ﴿ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ﴾ کښی د ذات توحید او په ﴿ الرَّحْمٰنُ الرَّحِیْمُ ﴾ کښی د صفاتو ثبوت دی او په ﴿ اِنَّ فِیْ خَلْقِ ﴾ الآیه ـ کښی د افعالو د توحید ثبوت دی چه د دغو ستاینو (صفتونو) او صفاتو په سبب د مشرکانو ټولی شبهی په کلی ډول (کلی طور) سره رد شوی.

---

## وَمِنَ النَّاسِ مَنْ یَّتَّخِذُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَنْدَادًا

---

او ځینی له خلقو څخه هغه څوک دی چه نیسی بی له الله څخه شریکان (په عبادت کښی)

---

**تفسیر:** یعنی په بنیادمانو کښی چه په عقل او شعور کښی له ټولو مخلوقانو ځنی افضل دی، ځینی داسی هم دی، چه سره له ښکاره او سابقه دلائلو بیا هم غیر له الله تعالیٰ ځنی نور شیان د حق تعالیٰ شریک ګڼی، او د ده جل جلاله سره ئی برابروی.

---

## یُحِبُّوْنَهُمْ کَحُبِّ اللّٰهِ

---

چه مینه کوی دوی په هغوی باندی لکه چه مینه کوی په الله

---

**تفسیر:** یعنی یوازی په اقوالو او اعمالو کښی خپل شریکان له حق تعالیٰ سره نه برابروی، بلکه ان تر قلبی محبت پوری چه د اعمالو د صدور اصل او اساس دی د دوی د شرک او مساوات رسیدلی دی، چه د شرک اعلیٰ درجه ده، او شرک فی الاعمال د هغه فرعه او تابع دی.

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَشَدُّ حُبًّا لِّلّٰهِ ؕ

او هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی ډیر تینګ دی له جهته د مینی له الله سره ،

**تفسیر:** یعنی هغه محبت چه مشرکین ئی له خپلو باطلو معبودانو سره لری، مؤمنان له هغه ځنی خورا (ډیره) زیاته مینه او محبت له الله تعالیٰ سره لری، ځکه چه د مشرکانو مینه د دنیا په مصائبو کښی زائلیږی ـ او د آخرت د عذاب د لیدلو په اثر دوی له خپلو باطلو معبودانو ځنی بیخی بیزاره کیږی لکه چه په وروستی آیت کښی راځی. بالعکس د مؤمنانو محبت او مینه له خپل پاک الله سره په راحت او مصیبت په روغتیا او ناروغتیا ـ په دنیا او آخرت ـ په پټه او ښکاره کښی برابره، او هیڅ تغییر نه مومی او تل دوامداره او باقی وی او هم هغه محبت چه اهل الایمان ئی له الله تعالیٰ سره لری، له هغه محبت ځنی خورا ډیر او زیات دی چه مؤمنان ئی له ماسوئ الله یعنی انبیاؤ ـ اولیاؤ، ملائکو ـ عابدانو ـ صالحانو ـ علماؤ ـ فضلاؤ، آباؤ، اجدادو، اموالو، اولادونو، ښځو، دوستانو، دنیا او مافیها سره لری. ځکه چه مؤمنان له الله تعالیٰ سره د هغه د عظمت او شان سره سم بالاصاله او بالاستقلال مینه او محبت لری، او له نورو سره بالواسطه، او د حق تعالیٰ له حکم سره سم له هر یوه سره د هغه د مرتبی او مقام په میچ (اندازه) مینه کوی. هو! د الله تعالیٰ او د ماسوئ الله جل جلاله په محبت او مینه کښی مساوات او برابری کول، که هر څومره هغه لوی سری هم وی. خالص شرک او د مشرکانو کار دی.

په تعظیم ادب کښی زیار (محنت) کاړی صدیق ــ د رتبی نه کوی فرق چیری زندیق

وَلَوْ يَرَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا اِذْ يَرَوْنَ الْعَذَابَ ۙ اَنَّ الْقُوَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعَذَابِ ﴿۱۶۵﴾

او که ووینی هغه کسان چه ظلم ئی کړی دی (په خپلو نفسونو په شرک سره) په هغه وخت کښی چه ووینی دوی عذاب چه بیشکه قوت خاص الله لره دی تول او بیشکه چه الله سخت عذاب ورکوونکی دی (نو د بتانو عبادت به ئی نه کاوه)

**تفسیر:** یعنی هغه ظالمان چه الله تعالیٰ سره شریکان پیدا کوی که دوی دا خپل باطل معبودان په راتلونکی وخت کښی ووینی، چه څرنګه دا معبودان سره له خپلو عابدانو د الله تعالیٰ په عذاب کښی آخته کیږی، او هیڅوک نه وی چه دوی له سختو عذابو ځنی وژغوری (بچ کړی)، هلته به

وپوهیږي چه ټول زور او قوت خاص الله تعالیٰ لره دی ـ او د الله تعالیٰ عذاب خورا (ډیر) سخت دی، نو دوی به هیڅرې د الله تعالیٰ له عبادت څخنی مخ نه اړاوه، او نورو شیانو ته به نه متوجه کیدل. او نه به ئې له دوی څخنی د منفعت او د ګټې هیله (طمعه) او امید کاوه.

إِذْ تَبَرَّأَ الَّذِينَ اتُّبِعُوا مِنَ الَّذِينَ اتَّبَعُوا وَرَأَوُا الْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الْأَسْبَابُ ﴿١٦٦﴾

کله چه بیزاره شي هغه کسان چه متبوعان (مشران) دي له هغو کسانو څخه چه تابعان (او کشران) دي او وويني دوی عذاب او منقطع (غوڅ) شي په دوی (هغه ټول) اسبابونه (د خپلوی علائق).

**تفسیر:** یعنی هغه وخت به داسی وی چه متبوع به له خپلو تابعانو څخنی بیزاريږی، او د بتانو او د بت خوښوونکو په مینځ کښې به هیڅ علاقه او رابطه نه پاتې کیږی، او یو له بله سره به د الله تعالیٰ د عذاب له ویری دښمنی کوی.

وَقَالَ الَّذِينَ اتَّبَعُوا لَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَتَبَرَّأَ مِنْهُمْ كَمَا تَبَرَّءُوا مِنَّا ط

او وایي هغه کسان چه تابعان وو کاشکی وی مونږ لره بیا ورتلل (دنیا ته) نو بیزاره به شو مونږ له دې متبوعانو څخه لکه چه بیزاره شوی دي دوی له مونږ څخنی

**تفسیر:** مشرکان به په هغه وخت کښې وایی که مونږ یو ځل بیا دنیا ته لاړ شو، نو مونږ به له هغوی څخنی خپل انتقام او کسات (بدله) واخلو ـ او همغسې چه دوی نن له مونږ څخنی بیل او جلا (جدا) شوی دی، مونږ به هم هلته د هغوی ځواب هم داسې ورکوو، او ترې بیلیږو به. مګر له دی محالی او نه کیدونکی آرزو څخنی به بې له افسوسه هیڅ یوه ګټه او منفعت په لاس نه ورځی.

كَذَٰلِكَ يُرِيهِمُ اللَّهُ أَعْمَالَهُمْ حَسَرَاتٍ عَلَيْهِمْ ۖ وَمَا هُمْ بِخَارِجِينَ مِنَ النَّارِ ﴿١٦٧﴾ ع

هم داسې (لکه چه وښوده پاک الله دوی ته د عذاب سختي او د یوه بل نه بیزاری) وبه ښيي دوی ته الله (ناکاره) عملونه د دوی افسوسونه په دوی باندی او نه به وی دوی وتونکی هیچیری له اور (د دوزخ) نه

**تفسیر:** یعني همغسی چه مشرکان د الله تعالیٰ د عذاب، او د خپلو معبودانو له بیزاری ـ او جلاوالی (جداوالی) ځني به سخت حسرت او افسوس کوی، هم داسې الله تعالیٰ د هغوی ټول عملونه د افسوس او حسرت موجب گرځوی. ځکه چه د دوی حج او عمره، صدقات او خیراتونه، او نور احسانات او ښیگنی (فائدو) د کفر په سبب بیخی مردودی او ابته (ناکاره) کیږی. او هر څومره شرک او گناه چه ولری، د هغو په مقابل کښی به په عذابیږی، نو اوس به د هغوی ښی او بدی چاری ټولی د حسرت او ارمان موجبات کیږی، او له هیڅ عمل ځني به دوی ته هیڅ یوه گټه او فائده ونه رسیږی، او تل به په دوزخ کښی اوسیږی. بالمقابل موحدین او د ایمان خاوندان که د خپلو گناهونو له سببه دوزخ ته لاړ هم شي، په پای (آخر) کښی تری وځی، او د خپلو ښو چارو ښه بدل مومی.

يَاأَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ ط

ای خلقو! خورئ تاسی له (ځینو هغو) شیانو څخه چه په ځمکه کښی دی حلال پاک (بی شبهی) او پیروی مه کوئ تاسی د (اثر د) قدمونو د شیطان! (شیطان پسی مه ځئ! او د ده په وسوسه د هوا او هوس متابعت مه کوئ!)

**تفسیر:** عربیانو به بت پرستی کوله، او د بتانو په نامه به ئی حیوانات سرخوشی ایله (آزاد) پریښودل، او له هغو ایله خوشی شویو حیواناتو ځني به ئی گټه او فائده اخیستل حرام گڼل، چه دا هم یو راز (قسم) شرک دی، ځکه چه د حلال او حرام ټاکل (مقررول) او بیلول د الله تعالیٰ کار دی، او پرته (بغیر) له الله تعالیٰ ځني به داسې کارونو کښی د بل چا خبری گواکی شرک ته تمایل او ترجیح ده. نو له هم دی سببه ئی په ړومبنی آیت کښی د شرک خرابی بیان کړه، اوس د حلال له تحریم ځني ممانعت فرمایی، چه خلاصه او لنده ئی دا ده هر هغه شي چه په ځمکه کښی پیدا کیږی، تاسی له هغه ځني خورئ! په دی شرط چه شرعاً حلال، طیب او روا وی. یعني نه (فی نفسه) حرام وی، لکه مرداره او خنزیر (سرکوزی) او ما اهل به لغیر الله یعني هغه ساکښان (ذی روح) چه د هغو د حلالولو په وخت کښی پرته (علاوه) د الله تعالیٰ له نامه

ځنى د بل چا نوم پرى ويلى شوى وى، او د هغو له حلالولو ځنى ئى غيرالله ته قربت مقصود وى. او نه د كوم عارضى امر له سببه په هغه كښى حرمت پيدا شوى وى، لكه د غصب، غلا، رشوت او د سود مالونه، چه له دغو تولو ځنى اجتناب او ځان ساتل ضرورى دى. او د شيطان پيروى هيڅكله مه كړئ! چه په خپل سر هر شى چه مو زړه وغواړى، حلال ئى وګڼئ لكه ﴿وَمَآ أُهِلَّ بِهِۦ لِغَيْرِ ٱللَّهِ﴾ او هر شى چه مو زړه وغواړى حرام ئى وبولئ! لكه منده (بحيره، سائبه وصيله او حام).

---

إِنَّهُۥ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿١٦٨﴾ إِنَّمَا يَأْمُرُكُم بِٱلسُّوٓءِ وَٱلْفَحْشَآءِ وَأَن تَقُولُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿١٦٩﴾

---

بيشكه چه شيطان تاسى لره دښمن دى ښكاره بيشكه هم دا خبره ده چه حكم كوى شيطان تاسى ته په بد او قبيح كار سره (چه عقلاً او نقلاً منفور (متنفره) وى) او چه ووايئ تاسى په الله هغه خبرى چه تاسى پرى نه پوهيږئ!.

---

**تفسير:** يعنى مسئلى او شرعى احكام له خپل لورى جوړوئ!. لكه چه په ډيرو ځايو كښى ليده كيږى، چه سر بيره (علاوه) پر جزئى امورو په اعتقادى امورو كښى هم له شرعى نصوصو څخه سترګى پټوئ!. او له خپله ځانه نوى حكمونه جوړوئ! او په قطعى نصوصو او د سلفو په اقوالو كښى تحريفونه، تغليطونه (غلطى)، اړول، رااړول كوئ!.

---

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّبِعُوا۟ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ قَالُوا۟ بَلْ نَتَّبِعُ مَآ أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ ءَابَآءَنَآ ۗ أَوَلَوْ كَانَ ءَابَآؤُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ شَيْـًٔا وَلَا يَهْتَدُونَ ﴿١٧٠﴾

---

او كله چه وويل شى دوى ته چه پيروى كوئ تاسى د هغه حكم چه نازل كړى دى الله (چه قرآن دى په تحليل او تحريم كښى) نو وايى (چه د قرآن پيروى نه كوو) بلكه پيروى كوو د هغه حكم چه موندلى دى مونږ په هغه باندى پلرونه خپل (ايا دوى د خپلو پلرونو متابعت كوى) اګر كه وو پلرونه د دوى چه نه پوهيدل په هيڅ شى (د دين له احكامو څخه) او نه ئى لاره موندلى وه (حق ته).

**تفیسر:** یعنی د حق تعالیٰ د احکامو په مقابل کښې، د خپلو پلرونو او نیکونو پیروی او متابعت کوو. او دا هم شرک دی. لکه چه ځینې ناپوه مسلمانان د کوندو په نکاح، او د ښځو د میراث په نسبت، او نورو باطلو رسومو کښې هم داسې خبرې کوی، او ځینې که څه هم په ژبه داسې چټې (بیکاره) او فضولې خبرې نه کوی، مګر د هغوی له عمل څخه دا خبرې ښکاره او څرګندیږی. حال دا چه داسې اقوال او افعال ټول د اسلام له اصولو چپ او مخالف دی.

وَمَثَلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا كَمَثَلِ الَّذِىْ يَنْعِقُ بِمَا لَا يَسْمَعُ اِلَّا دُعَآءً وَّنِدَآءً

او حال (د حق ته بلونکو) هغو کسانو لره چه کافران شوی دی لکه حال د هغه چا دی چه ناری وهی هسې یو شی ته چه نه اوری هیڅ مګر تشه بلنه او غږ.

**تفسیر:** یعنی هدایت ته د کافرانو رابلل داسې دی لکه چه کوم شپون (شپونکی) یا غوبه څریدونکو ساکښانو (ذی روحو) ته په بیدیا کښې ناری وهی، چه هغوی پرته (علاوه) له آوازه بل په هیڅ شی نه پوهیږی، هم دا رنګه حال د کافرانو دی، چه نه دوی په خپله پوهیږی او نه د پوهانو او عالمانو خبری منی.

صُمٌّۢ بُكْمٌ عُمْىٌ فَهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۱۷۱﴾

(دوی) کانه دی، ګونګیان دی، ړانده دی، نو دوی هیڅ عقل نه لری (چه حق ته لاره ومومی)

**تفسیر:** یعنی دا کافران کانه دی، چه د حق خبری بیخی نه اوری، او ګونګیان دی، چه د حق خبری نه وایی، او ړانده دی، چه سمه لار نه وینی. لنده ئې دا چه دوی په هیڅ شی نه پوهیږی، ځکه چه د دوی دا دری حواس او قوی فاسدی شوی دی، نو د علم تحصیل، او د پوهې زده کول به څرنګه صورت ومومی؟.

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ

وَاشْكُرُوا لِلّٰهِ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ ﴿١٧٢﴾

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړې دی (یعنی ای مؤمنانو) خورئ تاسی! له پاکو حلالو هغه شیانو چه درکړی دی مونږ تاسی ته، او شکر وباسئ! الله لره (په دغو حلالو شیانو) که چیری یئ تاسی چه خاص ده لره عبادت کوئ!

**تفسیر:** د ټولو طیباتو او روا شیانو د خوراک حکم وړاندی تیر شو، ولی څرنګه چه مشرکان د شیطان له پیروی څخنی مخ نه اړوی، او له خپله ځانه احکام جوړوی، او الله تعالیٰ ته ئی نسبت کوی، او له خپلو باطلو دودونو (رواجونو) څخنی لاس نه اخلی، د حق او حقیقت د پوهیدلو ځای په دوی کښی نشته، نو اوس پاک الله له دوی څخه اعراض وفرمایه، او په خاصه توګه (طریقه) ئی مسلمانانو ته توجه وکړه، او دوی ئی مامور کړل چه له روا او بی شبهی پاکو شیانو څخنی وخورئ!. او خپل انعام ئی ښکاره کړ، او د شکر د ادا کولو امر ئی وفرمایه. په دی کښی د ایماندارانو د مقبولیت او مطیعیت او د مشرکانو د مردودیت او رټلو په لوری اشاره وشوه.

إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ

بیشکه هم دا خبره ده چه حرام کړی دی (الله) په تاسی باندی (خوراک) د مرداری

**تفسیر:** مرداره هغه ده چه دا پخپل سر ومری او چری ته ونه رسیږی. یعنی حلال نه شی، یا له شرعی طریقی څخنی پرته (علاوه) حلال، یا ښکار کړی شی. لکه چه زندی کړی شی یا د کوم ژوندی ساکښ (ذی روح) کومه عضوه (غړی) پری کړی شی، یا په لرګی، تیږی او ټوپک سره وویشتل شی، یا له پاسه ولویږی او مړ شی یا د بل کوم حیوان د ښکر د وهلو په اثر مړ شی، یا ئی کوم داړونکی یا شیرونکی ځناور وداړی، یا ئی وشیری، یا د حلالولو په وخت کښی قصداً پری تکبیر، ونه وایی او مړ شی دا ټول سره په مردارو کښی داخل او حرام دی، البته دوه ساکښان (ذی روح) بی له ذبحی مونږ ته حلال دی، چه کب (ماهی) او ملخ دی، او دا د استثناء امر هم د رسول اکرم صلی الله علیه وآله واصحابه وسلم د حدیث په موجب شوی دی.

وَالدَّمَ

او (حرام کړی دی الله خوراک د) وینی (بهیدونکی)

**تفسیر:** له وینی څخه مراد هغه وینه ده چه له رګو څخنی وبهیږی او د ذبحی په وخت کښی داری ووهی، او راووځی، پاتی شوی هغه وینه چه په غوښه کښی وی، یا ورپوری لګیدلی وی، هغه ناروا نه ده بلکه حلاله او پاکه ګڼله کیږی، نو که څوک کله غوښه بی له مینځلو (وینځلو) پخه کړی، خوراک ئی ناروا نه دی خو د نظافت او سپیڅلتیا (پاکئ) له اصولو څخنی لری کار دی د ینی او پښتورګی چه تړلی شوی وینی دی خوراک د رسول اکرم صلی الله علیه وآله واصحابه وسلم د حدیث په موجب حلال او روا شوی دی.

## وَلَحۡمَ ٱلۡخِنزِيرِ

او (حرام کړی دی الله خوراک د) غوښی د خنزیر.

**تفسیر:** خنزیر ژوندی وی، که مړ، له شرعی قاعدی سره سم حلال شوی وی، که نه، په هر صورت سره قطعاً حرام دی. او د خنزیر ټول اجزاء لکه غوښه، پوستکی، هډوکی، ویښتان، نوکان، پلی، غړی، وازده او نور ټول ناپاک دی، او له هغوی څخنی فائده او کار آخیستل ناروا او حرام دی، کله چه په دی ځای کښی د خوراکی شیانو ذکر دی نو ځکه یواځی د غوښی حکم راښودلی شوی دی مګر په دی خبره باندی د ټول امت اجماع ده چه خنزیر بیشکه «نجس العین» دی. ځکه چه په بی غیرتی بیحیایی او په حرص او نجاستونو ته په رغبت کښی له ټولو ساکښانو (ذی روحو) څخنی وړاندی دی، او له هم دی امله (وجی) الله تعالیٰ د خنزیر په نسبت فرمایی ﴿ فَإِنَّهُۥ رِجۡسٌ ﴾ نو د هغه هیڅ یو جزء نه پاک دی، او نه د هیڅ قسم فائدی اخیستلو وړ (لائق) دی. هغه کسان چه د خنزیر غوښی ډیری خوری یا ئی له نورو اجزاؤ څخنی فائدی آخلی، په هغو کښی هم د خنزیر رذیله افعال ډیر په واضح ډول (طریقه) سره لیدل کیږی.

## وَمَآ أُهِلَّ بِهِۦ لِغَيۡرِ ٱللَّهِۖ

او(حرام کړی دی الله خوراک د) هر هغه حلال کړی شوی چه آواز کړی شوی وی په هغه باندی (په وخت د ذبحی کښی) بی له پاک الله).

**تفسیر:** له «ما اهل به لغیر الله» څخنی دا مطلب دی چه پر دی ساکښانو (ذی روحو) باندی پرته (علاوه) د الله تعالیٰ له نامه د بل کوم بت یا بل شی نوم واخیستل شی، یعنی هغه پرته (علاوه) د الله تعالیٰ له نامه د کوم بت، جن، خبیث روح، پیر، مرشد، نبی یا د نورو په نامه وټاکی (مقرر کړی)، او د هغه ساکښ (جاندار) روح هغه ته نذر کړی، د هغه د تقرب یا رضا غوښتنی په نیت ئی ذبح کړی او محض د ده د خوښی په غرض ئی د هغه ساکښ (جاندار) سا ایستل

مقصود وی، نو د دی ټولو ساکښانو (جاندار) د غوښو خوړل حرام دی، که څه هم د دوی د ذبحی په وخت کښی تکبیر هم وویل شی او د الله تعالیٰ لوی نوم هم پری واخیستل شی، ځکه چه پرته (علاوه) د روح له پیدا کوونکی څخه، بل چاته د روح نذر او نیاز کول، له سره درست نه دی، نو د هر ساکښ (جاندار) روح چه غیر الله ته نذر کړی شی د هغه د مرداری او خباثت مرتبه، د مرداری له خباثت څخنی زیاته ده، ځکه چه په مرداره کښی فقط دومره خرابی شته، چه د هغه روح د پاک الله په نامه نه دی وتلی. او دلته د هغه روح د غیر الله په نامه نذر شوی دی، چه دا عین شرک دی. همغسی چه خنزیر او سپی د ذبحی په وخت کښی د تکبیر ویلو له امله (وجی) نه حلالیږی، په مرداره باندی هم د الله تعالیٰ د نامه له ویلو څخنی څه فائده نه حاصلیږی، هم داسی د هر ساکښ (جاندار) روح چه غیرالله ته نذر شی یا ئی په نامه کړی وی، نو د ذبحی په وخت کښی په هغه باندی د الله تعالیٰ د نامه له آخیستلو څخنی له سره هیڅ فائده نه حاصلیږی او نه حلال کیدی شی. که د غیرالله په نامه باندی له ټاکلو (مقررولو) څخه وروسته، نذر کوونکی له خپل دی نیت څخنی رجوع او تری توبه وکړی، او بیا ئی ذبح کړی، نو د هغه په حلالوالی کښی هیڅ شک او شبهه نه پاتی کیږی.

عالمانو تصریح فرمایلی دی که د کوم باچا د راتګ په وخت کښی د تعظیم په نیت ساکښ (ذی روح) ذبح کړ شی، یا د کوم جن (پیری) له اذیت څخه د نجات له امله (وجی)، د هغه په نامه کوم ساکښ (ذی روح) حلال کړ شی، یا د توپ ویشتلو، یا د نذر پخولو، یا د کوم نیاز ورکولو په وخت کښی ساکښ (ذی روح) ذبح کړ شی، اګر که د ذبحی په وخت کښی د الله تعالیٰ نوم هم پری یاد کړ شی . دا ساکښ (جاندار) بیخی مردار او حرام او فاعل ئی سخت ګناهګار دی.

په حدیث شریف کښی هم راغلی دی «**لعن الله من ذبح لغیر الله**» یعنی په هغه چا د پاک الله لعنت دی چه غیرالله ته د تقرب او تعظیم په نیت ساکښ (ذی روح) ذبح کړی، که د ذبحی په وخت کښی د الله تعالیٰ نوم پری یاد کړی، یا ئی یاد نه کړی. هو! په دی کښی هیڅ حرج نشته چه ساکښ (ذی روح) د الله تعالیٰ په نامه ذبح، او د هغه غوښه فقیرانو ته ورکړی، او ثواب ئی کوم قریب یا پیر یا لوی ته وروبخښل شی، یا د کوم مړی له خوا قربانی وکړه شی. او د هغه ثواب ورته وبخښل شی، ځکه چه دا غیر الله ته ذبح نه ده. ځینی کاږه تلونکی په هسی مواقعو کښی داسی پلمی (تدبیرونه) بیانوی چه «د پیرانو په نذرونو او نورو نیازونو کښی زمونږ مقصود دا دی چه خواړه پاخه او د مړیو په نامه ئی صدقه کړو.» نو لومړی ښایی دوی وپوهیږی چه د الله تعالیٰ په مخ کښی داسی پلمی (تدبیرونه) پرته (علاوه) له زیانه څه نفع نه رسوی. دوهم ښایی له دوی څخنی پوښتنه وشی، چه د هغه ساکښ (ذی روح) په ځای چه نذر ئی منلی شوی دی، که هغومره غوښه وپیرودله (واخستله) شی، او پخه ئی کړی، او پر فقیرانو ئی وویشی نو ایا دا ښه کار نه دی؟ او ایا په دی دول (طریقه) سره هغه نذر نه ادا کیږی؟ که بلا تأمل تاسی داسی وکولی شئ! او په دی خیرات کښی هیڅ دول (طریقه) خلل ستاسو په زړونو

کښې پيدا نه شي نو تاسي رښتينې يئ!، که نه دروغ، او دا فعل مو غته گناه، او هغه مذبوحه مرداره او حرامه ده.

**(فائده):** دلته داسې يوه شبهه پيدا کيږي چه په دې آيت کښې ئې د ذکر شويو شيانو د حرمت انحصار بيان فرمايلې دې چه له هغه ځنې دا مطلب فهميږي چه پرته (علاوه) له مذکوره ؤ شيانو څخه بل هيڅ ساکښ (جاندار) حرام نه دې، حال دا چه تول داړونکي، څيروونکي ساکښان (ذي روح) لکه خره، سپي او نور هم حرام دي. د دې خبرې يو ځواب دا دې «په دې حصر کښې د مذکوره ؤ شيانو د حرمت حکم منحصر نه دې، چه هسې اعتراض وارد شي، بلکه د حرمت حکم ئې له صحت او صداقت سره مخصوص فرمايلې دې، او د دې حکم د مخالف جانب بطلان مقصود دې، يعنې خبره هم دا ده چه هم دا شيان پاک الله په تاسې حرام کړي دي. او په دې کښې بل کوم احتمال نشته، يعنې د دې شيانو حلال گڼل بيخي باطل او غلط دي.» بل ځواب دا دې چه «د حرمت حکم دې په هم دې مذکور شويو شيانو کښې منحصر او ومانه شي، مگر دا حصر دې اضافي وگانه شي، يعنې خاص دې د هم دې شيانو په لحاظ سره تسليم کړی شي، نه هغه چه مشرکانو له خپلو خولو حرام گرځولي دي، لکه بحيره او سائبه او نور چه د هغو ذکر وروسته راځي، مطلب ئې داسې شو چه مونږ په تاسې باندې فقط مرداره او خنزير او نور حرام کړي وو، هغه شيان چه تاسې ئې لکه قچ (گډ)، بحيره، سائبه او نور حرام گڼئ! او د هغو تعظيم او تکريم کوئ! دا کار بيخي چټي (بيکاره) او افترا ده، پاتې شو څيروونکي او مردار ساکښان (جاندار)، د هغوی په حرمت خو کافران هم قائل وو، او هيڅوک د هغوی په مرداري کښې څه نه وايي.

نو دا حصر د هم دې حيواناتو په لحاظ شوی دی، چه هغه مشرکانو د الله تعالیٰ د حکم څخه پرته (علاوه)، له خپل لوري حرام کړي وو، د تول جهان د ساکښانو (جاندار) سره د دې خبرې څه علاقه نشته، نو ځکه دلته داسې اعتراض هيڅ نه وارديږي.

---

فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَلَآ إِثْمَ عَلَيْهِ ؕ

---

نو هغه څوک چه اړ (ضرورتمند) شي (د دې حرامو خوړلو ته) حال دا چه نه ظلم کوونکي او نه تجاوز کوونکي وي (له قدر د کفافه) نو نشته گناه په ده باندې

---

**تفسير:** يعنې دا ذکر شوي شيان خو حرام دي. مگر که څوک د لوږې له امله (وجې) مرگ ته نژدې شوی وي، او د ناچارۍ په وخت کښې ئې وخوري، په داسې سړي باندې هيڅ ممانعت نشته، په دې شرط چه هيڅ نافرماني او زياتوالي ونه کړي. نافرماني دا ده، چه د اضطرار او ناچارۍ له پيښيدلو څخه پخوا، د هغو د خوړلو دپاره ملا وتړي. زياتوالي دا دی چه د ضرورت

له اندازې څخه ډیر وخوري، او خپله ګیډه ښه پرې وپړسوي، بلکه ښایي چه دومره وخوري چه ونه مري.

## إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٧٣﴾

بیشکه چه الله لوی بخښونکی پوره رحم لرونکی دی.

**تفسیر:** یعنې پاک الله ډیر لوی بخښونکی دی. د بندګانو هر راز(قسم) ګناهونه بخښي، بیا به نو د داسې ناچار او مضطر سړي ګناه ولې نه بخښي، او په خپلو بندګانو باندې ډیر مهربان دی، چه د مجبورۍ په حالت کښې ئې دوی ته ښکاره اجازه ورکړې ده چه په هر ډول (طریقه) چه کیږي، خپل ځانونه له مخمصې او هلاک څخه پورته کړ، که نه د هغه **(مالک الملک جلت عظمته)** حق ؤ چه داسې ئې فرمایلي وی «که مړ ئ یا ژوندی پاتې کیږئ! دې حرامو شیانو ته هیڅ مه نژدې کیږئ!» دلته یوه بله داسې اشتباه پیدا کیږي، چه هغه مضطر ته چه مړینې (مرګ) ته نژدې او حواس ئې خراب شوي وي د دې اندازه کول،
او فکر کول، چه فقط هم دومره دې وخوري چه قوت لایموت یې وشي، او ونه مري، او له هغه څخه دې هیڅ زیات ونه خوري که محال نه وي، سخت مشکل خو دی نو ځکه ئې ﴿ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ وفرمایل، او سهولت یې پکښې وکړ.

## إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنزَلَ اللَّهُ مِنَ الْكِتَٰبِ

بیشکه هغه کسان چه پټوي (دوی) هغه څه چه نازل کړي دي الله چه کتاب دی.

**تفسیر:** یعنې هغه حکمونه چه الله تعالیٰ د حلالو او حرامو په نسبت نازل کړي دي، یهودانو پټ کړل، او له خپل لوري ئې په هغو کښې زیاتوالي او کموالي وکړ. لکه چه په پخواني آیت کښې ذکر شو، هم داسې د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه صفتونه چه په آسماني کتابونو کښې لیکلي شوي وو، دوی پټ کړل، او په خپله خوښه ئې تغیر په کښې وکړ چه دا دواړه لویه ګناه ده. ځکه چه د هغوی مطلب هم دا دی، چه هدایت او د حق طریقه نه چاته په برخه او نه ورښکاره شي. او ټول سره ګمراهان پاتې شي، حال دا چه پاک الله کتابونه او انبیاء د دې لپاره رالیږلي دي، چه خلق سمه لاره ومومي، نو دوی په دې کار کښې له الله تعالیٰ سره هم مخالفت کړی دی او خلق الله ئې هم د جهالت او ګمراهۍ په کنده کښې غورځولي دي.

## وَيَشْتَرُونَ بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا

او پیری دوی (آخلی) په دی (د پټولو په عوض سره) قیمت لږ.

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ په نافرمانی او د خلق الله په ګمراهی باندی ئی بس والی ونه کړ، بلکه د هغه حق پټولو په عوض کښی به ئی له هغو کسانو څخنی چه د ګمراهی په کندو کښی ئی غورځول رشوت او بډی هم اخیستلی او په هغو مالونو باندی به ئی د هدیی، نذرانی او شکرانی نومونه ایښودل، حال دا چه داسی حرامخوری د مردارو او د خنزیرو له خوړلو څخنی هم ډیره بده ده. نو اوس ښکاره ده چه د هسی بدو حرکاتو سزا هم خورا(ډیره) سخته ده، لکه چه وروسته بیانیږی.

## أُولَٰئِكَ مَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ إِلَّا النَّارَ

نو دغه کسان (چه د حق پټوونکی دی) نه خوری (نه اچوی دوی) په ګیډو خپلو کښی مګر اور (د دوزخ د اور موجبات)

**تفسیر:** یعنی که څه هم په ښکاره ډول(طریقه) هغه مال خوندور او نفیس معلومیږی، مګر په حقیقت کښی هغه اور دی. چه دوی ئی په ډیره خوښی سره پخپلو ګیډو کښی ځایوی، لکه چه په خوندورو خوړو کښی د هلاکت زهر داخل وی، او د خوړلو په وخت کښی ډیر ښه خوند کوی، خو کله چه په ګیډو کښی ولویږی، کولمی غوڅوی.

## وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

او نه به خبری وکړی له دوی سره الله په ورځ د قیامت کښی (په خوښئ سره).

**تفسیر:** له دی آیت څخنی داسی شبهه لویدی شی، چه له نورو آیتو څخه هسی ښکاری چه الله تعالیٰ به د قیامت په ورځ کښی له دوی سره کلام کوی، نو دلته د کلام له نه کولو څخه مطلب څه دی؟ یعنی د لطف او مرحمت کلام به له دوی سره نه کوی، او د تخویف، تذلیل، تهدید او وعید په ډول(طریقه) به له دوی سره غږیږی، چه له دی غږیدلو څخنی به دوی ته ډیر رېړ او تکلیف پیښیږی. یا ئی داسی وبولئ چه بی له واسطی به له هغوی سره کلام نه کوی، او د کلام کولو کوم ذکر چه راغلی دی هغه به د عذاب د پرښتو په وساطت سره وی.

**(فائده):** د ﴿وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ﴾ له ویرولو څخنی دا خبره معلومیږی چه د هر سړی په زړه کښی د الله

تعالیٰ عم نواله مینه راسخه ده، که اوس هغه نه محسوسیږی، دغه دی داسی وګڼله شی لکه چه سکروټی تر ایرو لاندی پټی وی، کله چه په قیامت کښې تول موانع له مینځه ورک شی، نو د الله تعالیٰ محبت پوره ښرګندیږی. ځکه که داسی نه وی نو کفارو ته د داسی ویری اورول، داسی مثال لری، لکه چه څوک خپل دښمن له خپل خپګان او اعراض څخه ویروی چه هسی ډارول بیخی چټی او بیکاره کار دی. هو! ځان جاروونکی مینان د مین مخ اړول او اعراض د سخت درد او رنځ په شان ګڼی، نه غلیمان. نو معلومه شوه، چه په قیامت کښې به د هر یوه سینه د الله تعالیٰ له مینی ځنی داسی ډکه وی، چه د پاک الله لږ بی التفاتی به هغه ته د دوزخ له لوی عذاب ځنی خورا (ډیر) سخته ربړوونکی (تکلیف ورکونکی) او ویروونکی ثابتیږی.

وَلَا يُزَكِّيهِمْ ۚ

او نه به پاک کړی (الله) دوی (له کفره)

**تفسیر:** یعنی اهل د ایمان هرڅومره چه ګنهګار وی، خو بیا هم په دوزخ کښې د خپلی ګناه په اندازه یوه تاکلی (مقرره) موده تیروی او هر کله چه له ګناه څخه پاک شی هرومرو (خامخا) جنت ته داخلیږی، پرته (علاوه) له کفارو چه هغوی تل تر تله په اور کښې پاتی کیږی، او بیخی نه پاکیږی، او د جنت د داخلیدلو وړ (مستحق) او لایق نه ګرځی، ځکه چه دوی د شرکیه امورو په سبب داسی «نجس العین» ګرځیدلی وی، چه هغه نجاست په هیڅ ډول (طریقه) له دوی ځنی نه جلا (جدا) کیږی، او د عاصی مسلمان حال داسی وګڼئ! لکه چه پر یو پاک شی نجاست لویدلی وی. هر کله چه هغه زایل شی نو هغه شی بیا پاکیږی.

وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٧٤﴾

او دی دوی لره عذاب دردناک.

**تفسیر:** په رښتیا سره چه له دی ځنی به بل کوم زیات درددوونکی عذاب نه وی چه نه یوازی ظاهر بلکه د دوی باطن هم سوځوی او حقیقی محبوب به له دوی څخه خپه او مرور وی، او دوی به هیچیری او هیڅکله له دی ربړوونکی (مشقت ورکونکی) ویر او مصیبت څخه خلاص نشی. (نعوذبالله)

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الضَّلَالَةَ بِالْهُدَىٰ وَالْعَذَابَ بِالْمَغْفِرَةِ ۚ

دوی هغه کسان دی چه پیرودلی (اخستی) (غوره کړی) ئی ده ګمراهی په بدل د هدایت او عذاب په بدل د مغفرت کښی

**تفسیر:** یعنی بیشکه هغه خلق د دی خبری لایق دی، چه هغوی د خپل ژوندانه پانګه (نفعه) په لوټ ورکړه، او ګمراهی ئی د هدایت په مقابل کښی غوره او پسنده کړه، او د مغفرت اسباب ئی پریښودل، او د عذاب اسباب ئی اختیار او منظور کړل.

فَمَآ أَصۡبَرَهُمۡ عَلَى ٱلنَّارِ ﴿١٧٥﴾

نو (ځای د تعجب دی چه) څومره صبر کوونکی دی دوی (یعنی کفار) په اور (د دوزخ).

**تفسیر:** یعنی په خپله خوښه د اور د ننوتلو موجبات اختیاروی، ګواکی اور د دوی په نزد دومره ډیر مرغوب او محبوب دی، چه پخپلو ځانونو او مالونو ئی اخلی، که نه په دی خبره باندی خو هر څوک پوهیږی، چه د اور په عذاب باندی صبر کول، څرنګه دی؟

ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ نَزَّلَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّۗ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ ٱخۡتَلَفُواْ فِي ٱلۡكِتَٰبِ لَفِي شِقَاقِۭ بَعِيدٖ ﴿١٧٦﴾

دا (عذاب دوی لره) ځکه دی چه بیشکه الله نازل کړی دی کتاب په رښتیا سره او بیشکه هغه کسان چه اختلاف ئی کړی دی په کتاب کښی خامخا په (هسی) مخالفت کښی دی (چه له حقه) لری دی

**تفسیر:** یعنی ضلالت ئی د هدایت او عذاب ئی مغفرت په عوض ځکه وپیرود (واخستلو) یا په هغوی باندی د ذکر شویو پخوانیو عذابونو وجه دا ده، چه دوی په هغه حق کتاب کښی مخالفت وکړ، چه د الله تعالیٰ له خوا په رښتیا سره رالیږل شوی دی، او راز راز (قسم قسم) اختلافونه او دښمنی ئی په کښی څرګندی کړی، او د دی ضد او عناد له امله (وجی) ډیر سره لری شول، یعنی ډیر زیات مخالفت ئی وکړ، یا د حق له طریقی ځنی ډیر لری لاړل. یو صورت دا هم دی چه د دوی صابران کیدل علی النار څرنګه چه بدیهی البطلان په نظر راته، نو ځکه ئی د ﴿ذَٰلِكَ﴾ له لفظ څخه تر آخره پوری د هم دی ځواب په لوری اشاره فرمایلی ده. فافهم!

لَيْسَ الْبِرَّ اَنْ تُوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ

نه ده نیکي (یواځې دا کار) چه وګرځوئ مخونه خپل (په لمانځه کښې) طرف د مشرق یا مغرب ته

**تفسیر:** کله چه یهودانو او نصرانیانو خپله خرابي او مذمت په تیر شویو آیتونو کښې واورید، نو وی ویل چه په مونږ کښې د هدایت او مغفرت ډیر آثار او اسباب شته. زمونږ یو ښکاره فضیلت خو دا دی چه مونږ هغې قبلې ته مخامخ لمونځ کوو چه د هغې په لوری لمونځ کول، له نورو عبادتونو څخه ډیر ښه دی، چه مونږ ئې هم د الله تعالیٰ د حکم سره سم ادا کوو، نو مونږ څرنګه د دی خرابیو، او د دی دردناکو عذابونو مستحق کیدی شو؟ د دی خیال د تردید په نسبت داسې ارشاد وشو «غوره او ښه نیکي چه د مغفرت او هدایت له پاره کافي وی، یوازی دا نه ده، چه تاسې تش خپل مخونه په لمانځه کښې د مشرق یا مغرب په لوری وګرځوئ! او د صحیحو عقایدو او ضروری اعمالو بیخي پروا ونه کړئ!.»

وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالْكِتٰبِ وَالنَّبِيّٖنَ ۚ وَاٰتَى الْمَالَ عَلٰى حُبِّهٖ ذَوِى الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ ۙ وَالسَّآئِلِيْنَ وَفِى الرِّقَابِ ۚ وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ ۚ وَالْمُوْفُوْنَ بِعَهْدِهِمْ اِذَا عٰهَدُوْا ۚ وَالصّٰبِرِيْنَ فِى الْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ وَحِيْنَ الْبَاْسِ ؕ

ولیکن غوره نیکي (نیکي) د هغه چا ده چه ایمان ئې راوړی وی په پاک الله او (ایمان ئې راوړی وی په) ورځې آخری او په (ټولو) پرښتو او په (ټولو) کتابو او (ایمان ئې راوړی وی) په (واړو) انبیاؤ او ورکوی (خپل) مال په محبت د الله (فقیرانو) خپلوانو ته او (ورکوی خپل مال په محبت د الله فقیرانو) یتیمانو ته او مسکینانو ته او (ورکوی خپل مال په محبت د الله) مسافرانو ته او نادارو سوالګرو ته او په آزادولو (د مریو) کښې او سم دروی (په ترتیب اداکوی سره له ټولو حقوقو) لمونځ (خپل) او ورکوی زکوة او

(بل خاوند د نیکی) وفا کوونکي دي په وعدو خپلو کله چه دوی وعده کوی (له خالق یا له مخلوق سره) او (صفت کوو د) صبرکوونکو په سختیو او په رنځو کښې او په وخت د جنګ (په لاره د پاک الله) کښې.

**تفسیر:** یعنی هغه نیکی او ښیګنه (فائده) چه د هدایت اثر، یا د مغفرت سبب شي دا ده چه په الله تعالیٰ او د جزا په ورځې، او په تولو پرښتو، او په آسمانی کتابونو او په انبیاؤ، د زړه له کومې (منځ) ایمان راوړی او په هغوی باندې یقین ولری! او سره له هغه رغبته او محبته چه له ماله سره ئې لری له خپلو مالونو ځنې برسیره پر زکوٰة، نادارو خپلوانو او یتیمانو او غریبانو او مسافرو او بې شتو سوالګرو ته ورکوی! او غاړې خلاصوی! یعنی هغه مسلمانان له قید څخه خلاص کړی! چه د کفارو په لاس کښې په ظلم بندیان وی، یا د پوروړی غاړه د پور (قرض) لرونکی له پوره خلاصه کړی!. یا غلام (مریی) آزاد کړی! یا مکاتب لره د هغه د پور (قرض) د ورکولو او خلاصولو له پاره مال ورکړی! او لمونځ په ښه شان سره ادا کړی! او خپل عهد او نور په ځای کوی! او په سر ئې رسوی! په فقر او فاقه، په بیماری او تکلیف، په مصیبت او ویره کښې صبر او تحمل کوی! کله چه یهودان او نصرانیان په دغو ښو عقایدو، اعمالو او اخلاقو کښې قاصر او ناقص وو او په راز راز (قسم قسم) دولو (طریقو) ئې په دې ستایلو صفاتو کښې خلل او نقصان پیښاوه، لکه چه په قرآنی آیتونو کښې دغه ذکر شته، نو اوس که یهودان او نصرانیان یوازې د قبلې په استقبال باندې نازیږی، او خپل ځانونه د هدایت په طریقې باندې مستقیم ګڼی، او ځانونه د مغفرت لایق بولی، نو دا د هغوی ناپوهی او چتې (بیکاره) خیال دی. تر هغه پورې چه دا کتابیان په دغو اعتقاداتو، اخلاقو او اعمالو چه په دې کریمه آیت کښې مفصلاً ذکر شوی دی تینګ ونه دریږی، او عمل پرې ونه کړی، یواځې د قبلې له استقبال څخه هغوی ته هدایت نه په برخه کیږی، او نه د الله تعالیٰ له عذابه څخه نجات مومی.

أُولَٰٓئِكَ الَّذِينَ صَدَقُواْۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ ﴿۱۷۷﴾

او دغه (ستایلی شوی) هغه خلق دي چه صداقت ئې کړی دی (په دین، متابعت د حق، او غوښتنې د نیکی کښې) او دغه کسان هم دوی دی پرهیزګاران (ځان ساتونکی له ناوړو (بدو) اعمالو څخه)

**تفسیر:** یعنی هغه خلق چه په ذکر شویو اعمالو، اخلاقو او اعتقاداتو سره متصف دی، هم دغه خلق په اعتقاداتو، ایمان او دین کښې، یا په خپل قول او اقرار کښې، یا په خپلو اخلاقو او اعمالو کښې رښتونی دی، یا له ګناه او خرابو خبرو ځنې یا د الله تعالیٰ له عذاب څخه ځان ژغورونکی (ساتونکی) دی. یا هم دا خلق په خپلو اخلاقو یا اعمالو کښې پرهیزګاران او متقیان

دی، کله چه په اهل د کتابو کښې له دی ښیګنو (فائدو) څخه هیڅ نشته، نو د هغوی په نسبت داسې خیال لرل، څرنګه درست کیدی شي؟.

## يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡقِصَاصُ فِي ٱلۡقَتۡلَىۖ

ای هغو کسانو چه ایمان ئې راوړی دی (ای مؤمنانو!) فرض کړی شوی دی په تاسې باندې قصاص (برابر والی) په وژلیو شویو کښې (که عمداً وی).

**تفسیر:** د جاهلیت په زمانه کښې په عربو او یهودانو کښې داسې دستور ؤ، چه د شریف النسب کسانو د وژل شویو غلامانو په بدل کښې به ئې د رذیلو خلقو آزاد سړی، او د شریفانو د وژل شویو ښځو په بدل کښې به ئې نارینه، او د یوه آزاد شریف سړی په بدل کښې به ئې دوه تنه قصاصول او وژل. نو پاک الله په دی آیت کښې داسې حکم وفرمایه چه «ای ایمان لرونکو! مونږ په تاسې باندې په مقتولینو کښې برابری او قصاص فرض کړی دی». د «قصاص» معنیٰ په لغت کښې برابری او مساوات دی. نو دا دستور چه تاسې له ځانه ایستلی دی، چه د شریف او رذیل په مینځ کښې فرق کوئ، خوشې او فضول کار دی. او وپوهیږئ چه تاسې تول سره برابر او مساوی یئ! غریب وی که امیر، شریف وی که رذیل، عالم وی که جاهل، ځلمی وی که سپین ږیری، هلک وی که نجلی(جینی) روغ وی که ناروغ یا قریب الموت، صحیح الاعضاء وی، که ړوند او کوڼ او نور فرق سره نه لری.

**(فائده):** په ړومبنی آیت کښې بر (نیکی) هغه اصول ذکر شوی دی، چه د هدایت او مغفرت مدار وو. او د دی په لوری هم اشاره شوی وه. چه کتابیان له دغو ښیګنو (فائدو) څخنی بی برخې دی، او په تصریح سره ئې وفرمایل، چه هیڅوک بی له دغو ښیګنو (فائدو) او محاسنو څخه رښتینی دیندار او پرهیزګار نشي کیدی، اوس نو پرته (علاوه) له مسلمانانو څخه نه کتابیان د دی ښیګنو (فائدو) مصداق کیدی شي او نه د عربو جاهلان نو ځکه ئې اوس له تولو څخنی اعراض وفرمایه او په خاص دول (طریقه) سره ئې مؤمنان مخاطب کړ او د بر (نیکی) مختلف فروع، بدنی او مالی عبادات او مختلفی معاملی دوی ته ورښوول کیږی، چه پر دغو فروعو باندې هم همغه څوک عمل کولی شي چه په پاس ذکر شویو اصولو باندې معتاد او متصف وی. ګواکی نور خلق د دی خطاب لایق ونه ګڼل شول، نو ښایی دا خبره د هغوی د زیات شرم او عار سبب شي، اوس مطلب له هغو فرعی احکامو څخه چه په تفصیل سره بیانیږی په حقیقت کښې د مؤمنانو هدایت او تعلیم دی، مثلاً په ﴿ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡقِصَاصُ فِي ٱلۡقَتۡلَى ﴾ کښې د دی په لوری اشاره ده، چه یهودان او نور کسان چه په کوم دستور باندې په قصاص عمل کوی، هغه د دوی بی بنیاده ایجاد، دی چه د الله تعالیٰ له احکامو څخنی بیخی چپ (غلط) دی، چه د دوی له هسې چارو څخنی دا راښکاریږی. چه دوی د پخوانیو یاد شویو اصولو له کبله (وجی) نه په

کتابونو او نه په پيغمبرانو په سم ډول (طريقه) سره ايمان لرونکى دى او نه د الله تعالىٰ په عهد باندې وفادار دى. او نه د سختى او مصيبت په حالت کښې له صبر او تحمل سره څه علاقه لرى. او نه د خپل کوم عزيز او قريب د وژلو په وخت کښې له صبر او تحمل څخه کار آخلى او نه د نفسي غوښتنو څخه ځان ژغورى (ساتى)، بلکه د الله تعالىٰ له احکامو، او د انبياؤ له ارشاداتو، او د کتاب الله له حکمونو څخنى غاړه غړوى او د بې ګناهو خلقو په وژلو حکم ورکوى.

## اَلْحُرُّ بِالْحُرِّ

اصيل په اصيل باندې (قصاصيږى).

**تفسير:** دا توضيح د هغى برابرى ده چه حکم ئې صادر شو، مطلب ئې دا دى د هر آزاد نارينه په «قصاص» کښې يوائځې همغه يو آزاد نارينه وژل کيدى شى، چه د هغه وژونکى دى. داسى نه چه د يوه قاتل په عوض کښې له يوى قبيلې څخنى **(کيف ما اتفق)** دوه تنه يا زيات له هغو څخه پخپله خوښه ووژل شى.

## وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ

او مريى په مريى باندې (قصاصيږى)

**تفسير:** يعنى د هر مقتول غلام په مقابل کښې همغه غلام وژل کيږى، چه قاتل ئې دى. داسى به نه کيږى، چه د کوم شريف سړى د غلام په قصاص کښې، د هغه قاتل په ځاى چه د رذيلو خلقو غلام دى، کوم آزاد سړى ووژل شى.

## وَالْاُنْثٰى بِالْاُنْثٰى ؕ

او ښځه په ښځه باندې (قصاصيږى).

**تفسير:** يعنى د هرى يوى ښځى په «قصاص» کښې يوائځې همغه ښځه وژله کيږى چه د هغى قاتله ده. داسى نه شى کيدى، چه د کومى شريفة النسبى ښځى په «قصاص» کښې هغه رذيله ښځه ژوندى پريښوده شى، چه قاتله ده او د دى له تبر څخنى کوم نارينه وواژه (قتل) شى، خلاصه ئې داسى شوه چه هر آزاد د بل آزاد سره، او هر غلام د بل غلام سره برابر دى، نو ښايى چه په قصاص کښې هم مساوات وى، او هغه تعدى او تجاوز چه کتابيانو او د عربو جاهلانو کاوه،

بيخي ممنوع دی.
**(فائده):** اوس پاتی شوه دا خبره که آزاد کوم غلام یا نارینه کومه ښځه ووژني نو ئې «قصاص» آخیست کیږی که نه؟ نو دا مبارک آیت له دی خبری ځنی ساکت دی، او امامان پکښی اختلاف لری، زمونږ امام حضرت ابوحنیفه رحمة الله علیه د «ان النفس بالنفس» له آیت او د «المسلمون تتکافؤ دمائهم» د حدیث په اساس په دی خبره قایل دی، چه په دواړو صورتونو کښی قصاص جاری کیږی او لکه چه قوی او ضعیف روغ او مریض، معذور او غیر معذور او نور «قصاص» په حکم کښی سره برابر دی، هم دا راز (قسم) آزاد او غلام، نارینه او ښځه زمونږ د ستر امام **(ابو حنیفة الکابلی ثم الکوفی)** په نزد په «قصاص» کښی سره برابر دی. ولی په دی شرط سره چه وژل شوی غلام، د قاتل مریی نه وی، چه هغه د ده په نزد له قصاصه مستثنٰی دی. او که کوم مسلمان کوم ذمی کافر یا مستامن ووژنی، نو په هغه باندی هم زمونږ د حنفیانو په مذهب «قصاص» لازمیږی. خو د مسلمان او حربی کافر په مینځ کښی هیڅوک په «قصاص» قایل نه دی.

---

فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ وَأَدَاءٌ إِلَيْهِ بِإِحْسَانٍ ۗ

---

نو هغه څوک چه عفو وکړه شي (مصلحتاً) ده ته له (قصاصه د اسلامي) ورور د ده نه څه شي نو لازمه ده (په دی عفو کوونکی) مطالبه د دیت (له قاتله) په ښه وجه سره او ورکول (د دیت دی) هغه (عفوه کوونکی) ته په ښه وجه سره ،

---

**تفسیر:** یعنی که د مقتول له وارثانو ځنی کوم وارث خپل حق وبخښی، نو قاتل نه پری قصاصیږی بلکه ګورو به چه هغو وارثانو په څه ډول (طریقی) سره هغه قاتل بخښلی دی؟. بی له مالی معاوضی څخه یواځی د ثواب په غرض؟ یا د شرعی دیت په مقابل کښی؟ یا د مصالحی په توګه (طور) د څه مال په مقابل کښی؟ یعنی له «قصاص» ځنی څرنګه تیر شوی دی؟ او د هغه په مقابل کښی په څه شي راضي شوی دی؟، په اول صورت کښی قاتل د وارثانو له مطالبی ځنی بیخی خلاصیږی، او په نورو صورتو کښی قاتل لره ښایی چه هغه معاوضه دی په ډیر ممنونیت او خوښی سره ادا کړی!.

---

ذَٰلِكَ تَخْفِيفٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ ۗ

دا کار (د قصاص جواز یا دیت یا عفوه) آسانی ده له (طرفه) د رب ستاسی او مهربانی ده (چه اختیار ئی تاسی ته درکړ)

**تفسیر:** یعنی دا اجازه چه «په قتل عمد» کښې که غواړئ قصاص واخلئ!. که غواړئ دیت واخلئ!. که مو زړه غواړی ویې بخښئ! دا د پاک الله له خوا تاسی ته یو لوی سهولت او خورا(ډیر) مهربانی ده، یعنی د مقتول په وارثانو، او قاتلانو په دواړو باندی داسی یوه آسانی او لورینه (آرام) ده، چه په پخوانیو خلقو باندی نه وه. لکه چه په یهودانو «قصاص» او په نصرانیانو «دیت» یا عفوه مقرره وه.

فَمَنِ اعْتَدٰى بَعْدَ ذٰلِكَ فَلَهٗ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۷۸﴾

نو هر چا چه زیاتوالي وکړ (په ظلم او وژلو د قاتل) وروسته له دی فیصلی (چه دیت یا عفوه ده) نو ده لره دی عذاب دردناک (د دوزخ په عقبیٰ کښې، او قصاص په دنیا کښې)

**تفسیر:** یعنی که وروسته له دی تخفیف او رحمت څخه هم څوک بیا مخالفت، او د جاهلیت په دود (رواج) او دستور باندی تګ کوی، یا د عفوی او دیت له منلو څخه وروسته قاتل وژنی، نو ده ته په آخرت کښې سخت عذاب دی. یا اوس هم هغه وژل کیږی.

وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيٰوةٌ

او تاسی لره دی په قصاص کښې (لوی) ژوندون.

**تفسیر:** یعنی اګر که د «قصاص» حکم په ښکاره سره سخت او دروند ښکاری، مګر پوهان ښه پوهیږی، چه دا حکم د یو لوی ژوندون سبب دی، ځکه چه هیڅوک د «قصاص» د ویری د بل قتل ته هیڅکله اقدام نه کوی، نو د دی له امله (وجی) د دواړو ځانونه محفوظ پاتی کیږی، او د «قصاص» په وسیله د قاتل او مقتول د دواړو تبرونه هم له وژلو او د وینی له تویولو او بدیو څخنی محفوظ او مطمئن کیږی. په عربو کښې داسی یو دود (رواج) او دستور ؤ چه هغوی به د قاتل او غیر قاتل فرق نه کاوه، او په هر چا باندی به ئی چه لاس بر کیده همغه به ئی واژه، او په دواړو ډلو کښې به د هم دی له امله (وجی) تل جنګ او جګړه وه، او د یوه تن د وینی د تویولو په سبب به په زرهاؤ کسان وژل کیدل، کله چه د اصلی قاتل څخه «قصاص» واخیست شی، نو دا تول انسانان محفوظ او مصون پاتی کیږی. او داسی ئی هم معنی کیدی شی، چه

قصاص د قاتل په حق کښې د اخروی حیات باعث دی.

يَٰٓأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ١٧٩

ای خاوندانو د عقلونو! له پاره د دی چه تاسی ځان وساتئ (له ناحقو وینو څخه).

**تفسیر:** یعنی د «قصاص» له ویری د بل چا له وژلو څخنی ځانونه وساتئ یا خپل ځانونه د «قصاص» په سبب د آخرت له عذابه وساتئ. یا کله چه تاسی ته د «قصاص» د حکم حکمت درخرگند شو، نو د هغه له مخالفت څخنی چه د «قصاص» ترک دی ځانونه وساتئ!.

كُتِبَ عَلَيۡكُمۡ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ ٱلۡمَوۡتُ إِن تَرَكَ خَيۡرًا ٱلۡوَصِيَّةُ لِلۡوَٰلِدَيۡنِ وَٱلۡأَقۡرَبِينَ بِٱلۡمَعۡرُوفِۖ حَقًّا عَلَى ٱلۡمُتَّقِينَ ١٨٠

فرض کړی شوی دی په تاسی باندی کله چه حاضر شی یو له تاسی ته (اسباب) د مرگ که پری اینبی ئی وی څه مال، وصیت کول له پاره د مور او پلار او (نورو) خپلوانو په ښه انصاف سره دا حکم لازم دی په پرهیزگارانو باندی.

**تفسیر:** پومبنی حکم د مړی د ځان په نسبت ؤ. دا بل حکم د مړی د مال په نسبت دی، او دا آیت د ذکر شویو کلیاتو چه هغه د «وآتی المال علیٰ حبه ذوی القربیٰ» ارشاد دی، تشریح ده. په خلقو کښې داسی دود (رواج) او دستور ؤ چه د مړی تول مال به ئی د هغه ښځی او اولادی ته ورکاوه، بلکه مخصوصاً به هلکانو ته ورکاوه کیده. مور او پلار او نور خپلوان به له هغه څخه بی برخی پاتی کیدل، په دی آیت کښې ارشاد وشو، چه مور او پلار او تولو خپلوانو ته په انصاف سره وصیت کول په کار دی. او پر مړ کیدونکی (محتضر) باندی سم له هغه سره وصیت کول فرض شول. او دا وصیت تر هغه وخته پوری فرض ؤ چه د میراث آیت نه ؤ نازل شوی. کله چه د «النساء» په سورت کښې د میراث احکام نازل شول، او پاک الله د تولو برخی بیان کړی، نو اوس په میت باندی په خپله متروکه کښې وصیت فرض نه دی او ضرورت ورته نشته، هو! د مستحب په اندازه منلی شوی دی. خو وارث لره وصیت کول جائز نه دی، او هم د مال له یوه ثلث څخنی زیات وصیت کول نه دی په کار او له وصیت د سری د پور (قرض)، امانت، ودیعت او نورو راکړو ورکړو په متعلق وی، نو د هسی چارو وصیت اوس هم فرض دی.

فَمَنۢ بَدَّلَهٗ بَعْدَ مَا سَمِعَهٗ فَاِنَّمَآ اِثْمُهٗ عَلَى الَّذِيْنَ يُبَدِّلُوْنَهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ۝

نو هر چا چه بدل کړ دا وصیت وروسته له هغه چه وایي وریده هغه نو هم دا خبره ده چه گناه د دی (بدلولو) په هغو کسانو باندی ده چه بدلوی دا (وصیت) بیشکه چه الله ښه اوریدونکی (د تولو اقوالو) ښه پوهیدونکی دی (په تولو احوالو)

**تفسیر:** یعنی مری خو له انصاف سره سم وصیت وکړ او مړ شو. مګر ورکوونکی په هغه وصیت باندی عمل ونه کړ، نو په دی صورت کښی په مری باندی هیڅ ګناه نشته. مری خو خپل فرض ادا کړی دی، او هغه کسان ګنهګار کیږی چه له وصیت څخه چپ (غلط) او مخالف کار کوی، بیشکه الله تعالیٰ ته تولی خبری معلومی دی، او د تولو په نیتونو باندی ښه خبر دی.

فَمَنْ خَافَ مِنْ مُّوْصٍ جَنَفًا اَوْ اِثْمًا فَاَصْلَحَ بَيْنَهُمْ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ؕ

نو هغه څوک چه ویریږی له وصیت کوونکی څخه د ظلم (په خطا سره) یا د ګناه (په قصد سره) نو اصلاح وکړی په مینځ د دوی (د موصی او موصی له) کښی، نو نشته هیڅ ګناه په ده باندی.

**تفسیر:** یعنی که چاته د مړی په وصیت کښی داسی شبهه ور ولویږی، یا پوه شی چه دا مړی له کوم سببه غلط شوی دی، او بی ځایه ئی د کوم سړی رعایت کړی، او د بل سړی حق ئی تر پښو لاندی کړی یا ئی د پاک الله له حکم څخنی مخالفت کړی دی، او دا مصلح د وارثانو په مینځ کښی د شریعت له حکم سره سمه برابره مصالحه وکړی، نو په دغه مصلح باندی هیڅ ملامتی او ګناه نشته، او په وصیت کښی داسی تغیر او تبدیل جائز بلکه بهتر دی.

اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝

بیشکه الله ښه بخښونکی پوره رحم لرونکی دی (په هغه چا چه د الله د احکامو په اجراء کښې ډیر احتیاط .کوی)

**تفسیر:** یعنی حق تعالیٰ گنهگاران بخښی، نو هر څوک چه د اصلاح په غرض یوه خرابی له مینځه لری کوی، ده ته هرومرو (خامخا) مغفرت کوی یا ئی معنی دا ده چه د هغه وصیت کوونکی بخښونکی دی، چه ناجائز وصیت ئی کړی وی، او بیا په خپل ناجائز باندی پوه شوی وی او له هغه وصیت څخه په خپل ژوند کښې بیرته گرځیدلی وی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (ای مؤمنانو!) فرض کړی شوی ده په تاسی باندی روژه لکه چه فرض کړی شوی ده په هغو کسانو چه پخوا له تاسی څخه وو (لکه پخوانی امتونه او پیغمبران تر آدمه پوری)

**تفسیر:** دا حکم د روژی په نسبت دی، چه د اسلام په ارکانو کښې داخله ده، او د نفس په بندگانو، او هوا او هوس خوښوونکو باندی د هغی نیول، خورا (ډیر) سخت او گران دی نو ځکه ئی د تاکید او اهتمام په الفاظو سره بیان وفرمایه. دا حکم د حضرت آدم علیه السلام له زمانی څخه تر اوسه پوری جاری دی، که څه هم د ورځو د تعیین په نسبت ئی څه لږ او ډیر اختلاف موجود ؤ په پخوانیو مذکوره ؤ اصولو کښې هغه د صبر او تحمل حکم چه شوی ؤ هغه د روژی یو لوی رکن دی، د رسول اکرم صلی الله علیه وآله وصحبه وسلم په حدیث کښې روژه د صبر نیمایی فرمایلی شوی ده.

لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ۝

له پاره د دی چه تاسی ځان وساتئ (له گناهونو څخه او پرهیزگاران شئ! ځکه چه روژه د شهوانی قوی ماتوونکی ده)

**تفسیر:** یعنی روژه مسلمان د نفسی خواهشونو په پریښولو سره عادی کوی او په دی وسیلی سره کولی شی چه خپل نفس له هغو نفسانی خواهشونو او شرعی محرماتو څخه وساتی، چه نفس ته ډیر عزیز او گران وی، روژه د انسانانو په نفسو کښې د شهوانی قواؤ په ضعیفولو کښې ډیر ښه

اثر کوی. او په انسانانو کښې د تقویٰ او پرهیزګاری روحیه تقویه کوی، په روژه کښې لوی حکمت، د سرکښ نفس اصلاح، او د شریعت د هغو احکامو آسانی او سهولت دی چه د هغو کول پر نفس باندی ګران او درانه وی، ترڅو چه روژتی متقی شی.

**تنبیه:** پر یهودانو او نصرانیانو باندی هم د رمضان روژه فرض شوی وه، مګر هغوی په خپله خوښه او رایه سره په هغې کښې تغییر او تبدیل وکړ، نو په ﴿لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ﴾ کښې په هغوی باندی تعریض دی نو معنی ئې دا ده «ای مسلمانانو تاسی له نافرمانی څخه ځانونه وساتیٔ!» یعنی لکه یهودان، او نصرانیان په دی حکم کښې خلل مه اچویٔ!.

## اَيَّامًا مَّعْدُوْدٰتٍ ط

یو څو ورځې شمیرلی شوی (لږ چه د رمضان ۲۹ یا ۳۰ ورځې دی).

**تفسیر:** یعنی څو شمیرلی شوی ورځې چه زیاتی نه وی، روژه ونیسیٔ! او له دی ورځو څخه د رمضان المبارک میاشت مراد ده، لکه چه په وروستی آیت کښې راځی.

## فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَّرِيْضًا اَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ اَيَّامٍ اُخَرَ ط

پس هر څوک چه وی له تاسی څخه ناجوړ یا (روان) وی په سفر (او روژه وخوری) نو (پر ده باندی لازم دی روژه نیول) په شمار (د خوړلیو شویو ورځو) له ورځو نورو.

**تفسیر:** بیا په دی لږه موده کښې ئې هم دومره سهولت او آسانی فرمایلی ده، چه که څوک داسی ناروغ وی، چه روژه نیول ورته تکلیف پیښوی، یا مسافر وی، نو واک او اختیار لری چه روژه ونه نیسی، بیا دی د هغو ورځو قضایی وروسته له رمضان المبارک څخه ونیسی، چه په رمضان المبارک کښې ئې د معذرت له کبله (وجی) خوړلی دی، خوښه ئې چه دا قضا ئې جلا جلا (جدا جدا) راوړی او که یو ځای.

## وَعَلَى الَّذِيْنَ يُطِيْقُوْنَهٗ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِيْنٍ ط

او په هغو کسانو باندی چه د روژی نیولو طاقت نه لری فدیه ورکول دی (یا) او په هغو کسانو باندی چه د روژی نیولو طاقت لری فدیه ورکول دی (او دا

حکم په اول کښې ؤ، بیا منسوخ شو). طعام د یوه مسکین (د یوې روژې په برابرې.)

**تفسیر:** (۱) د ﴿يُطِيقُونَهُ﴾ ترجمه په «طاقت نه لري» سره په دې سبب ده چه همزه له پاره د سلب شي. یا د «لا» کلمه پکښې مقدره شي، یعني چه طاقت ترې سلب شوې وي لکه شیخ فاني.
(۲) او د ﴿يُطِيقُونَهُ﴾ ترجمه په «طاقت لري» سره بنا په ظاهر د آیت سره ده یعني هغه خلق چه د روژې نیولو طاقت لري. خو په اول د اسلام کښې د بیخې عادت نه لرلو په سبب دوی ته د یوې کاملې میاشتې پرله پسې روژه نیول، ډیر ګران او دروندکار ؤ، نو د دوی د آسانۍ له پاره داسې فرمایل شوې ؤ، چه که تاسې ته کوم عذر لکه مرض یا سفر په مخ کښې نه وي، مګر یواځې د عادت نه لرلو په سبب تاسې ته روژه سخته وي نو تاسې اختیار لرئ چه روژه نیسئ! یا د روژې فدیه ورکوئ!. د یوې روژې فدیه یوه مسکین ته په مړه ګیډه د دوه وختو طعام ورکول دي. ځکه کله چه روژتي د یوې ورځې طعام بل چاته ورکړي، ګواکې خپل نفس ئې له خوراک څخه منع کړ. او فی الجمله ئې له روژې سره مشابهت پیدا کړ. بیا نو کله چه خلق له روژې سره عادي شول. دا حکم منسوخ او اجازه پاتې نه شوه، چه د دې نسخې بیان په وروستنې آیت ﴿فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ﴾ کښې راځي. ځینې له ﴿طَعَامُ مِسْكِينٍ﴾ څخه «**صدقة الفطر**» هم مرادوي، چه په دې تقدیر سره ئې معنٰی داسې کیږي «هغه کسان چه د فدیې ورکولو طاقت لري، دوی دې د یوه مسکین د خوراک په اندازه طعام ورکړي!» چه اندازه ئې په مبارکې شرعې کښې د غنمو نیمه پیمانه او اوربشو یوه پیمانه ده. په دغه تقدیر لکه اوله ترجمه دا آیت منسوخ نه دی هغه خلق چه اوس هم داسې وایي خلق په رمضان کښې اختیار لري چه روژه نیسي یا په فدیه اکتفاء کوي او روژه قطعي حکم نه دی نو دا د جهل او ناپوهۍ وینا ده. یا ئې ویونکې بې دین دی.

فَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُ ۚ

پس هر څوک چه پخپله خوښه (زیادت) وکړي کومه نیکي نو دغه بهتره ده ده لره؛

**تفسیر:** یعني د یوې ورځې له خوراک څخه زیات یوه مسکین ته ورکړي، یا د څو تنو مسکینانو ګیډې مړې کړي، نو سبحان الله دا ډیره ښه ده!.

وَأَن تَصُومُوا خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١٨٤﴾

او روژه نیول ستاسی (سره د افطار له رخصته) ډیر بهتر دی تاسی ته (له خوړلو څخه) که چیری یئ تاسی چه پوهیږئ (د روژی په فضیلت).

**تفسیر:** یعنی که تاسی ته د روژی فضیلت او حکمت او منافع معلوم شی، نو وبه پوهیږئ، چه د روژی نیول د فدیی له ورکولو څخنی ډیر ښه دی. نو د روژی په نیولو کښی هیڅ سستی او لتی مه کوئ!

شَهۡرُ رَمَضَانَ الَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ الۡقُرۡءَانُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَٰتٖ مِّنَ الۡهُدَىٰ وَالۡفُرۡقَانِۚ

میاشت د روژی هغه میاشت ده چه نازل کړی شوی دی په دی کښی قرآن چه هدایت دی له پاره د خلقو او دلیلونه دی ښکاره (له جنسه د هغو شیانو) چه هغه لاره ښیی او بیلوونکی د حق او باطل دی.

**تفسیر:** د رسول اکرم صلی الله علیه وآله وصحبه وسلم په حدیث کښی راغلی دی چه ابراهیمی صحیفی، توریت او انجیل ټول په هم دغه رمضان المبارک کښی نازل شوی دی. پاک قرآن هم د رمضان المبارک په ځلیرویشتمه شپه کښی له لوح محفوظ څخه اول آسمان ته ټول سره یو ځای نازل شوی دی بیا له هغه ځای څخه له ضرورت سره سم او د احوالو په مقتضیٰ په حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په (۲۳) کلونو کښی ټوټه ټوټه (لږلږ) نازل شوی دی. او حضرت جبریل علیه السلام د سیدالمرسلین خاتم النبیین صلی الله علیه وآله وصحبه وسلم په حضور په هر رمضان المبارک کښی د نازل شوی قرآن عظیم ختم کاوه، او بیابیا به ئی د تکرار په ډول (طریقه) زمونږ رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته اوراوه، چه له دغو ټولو حالاتو او خبرو څخه د رمضان المبارک فضیلت، او له قرآن عظیم الشان سره د هغی مناسبت او خصوصیت، ښه ښکاریږی او د هم دی له امله (وجی) په هم دی میاشت کښی «تراویح» هم مقرری شوی دی. نو ښایی چه په دی میاشت کښی د پاک قرآن خدمت په ډیر شوق او ښه اهتمام سره وشی! ځکه چه دا میاشت د هم دی له پاره مقرره او معینه شوی ده.

فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهۡرَ فَلۡيَصُمۡهُۖ

نو هر څوک چه ومومی له تاسی (ای مکلفینو) دا میاشت نو ضرور دی روژه ونیسی د هغی (میاشتی).

**تفسیر:** یعنی کله چه د دی میاشتی عظیم او مخصوص فضایل تاسی ته درڅرګند شول، نو هغه چاته چه دا مبارکه میاشته په لاس ورشی، خامخا دی د هغی روژه ونیسی!، او هغه فدیه چه د سهولت له مخی په ابتدا کښی د څه مودی له پاره (موقتاً) مقرره شوی وه، هغه موقوفه شوه.

وَمَنْ كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ ط

او هغه څوک چه وی ناجوړه یا په سفر (بوزه، روان) وی نو (پر ده باندی دی روژه نیول) په شمار (د خوړلیو شویو ورځو) له ورځو نورو.

**تفسیر:** له دی عام حکم څخه دا معلومیږی چه ښایی مریض او مسافر ته به هم د افطار او د قضا اجازه نه وی پاتی، او لکه چه د روژی توان لرونکی اوس له افطار څخه منع شوی دی، هم داسی به مسافر او مریض هم له افطار څخه منع شوی وی، نو ځکه ئی د مسافر او مریض ذکر بیا په صاف دول (طریقه) سره وفرمایه چه دوی ته په رمضان المبارک کښی د افطار کولو، او په نورو ورځو کښی د هغه د قضا راوړلو اجازه اوس هم د پخوا په شان باقی پاتی ده.

يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ وَلِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَاكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٨٥﴾

اراده لری الله په تاسی د آسانتیا (چه مسافر او مریض ئی مخیر کړ) او اراده نه لری په تاسی باندی د سختی او له پاره د دی چه پوره کړئ (تاسی په قضا سره) شمار (د روژی د میاشتی) او چه په لویی سره یاد کړئ الله په دی چه هدایت ئی کړی دی تاسی ته او دپاره د دی چه تاسی شکر وباسئ (د رخصت، آسانی او ثواب په نعمتونو باندی)

**تفسیر:** مطلب دا دی الله تعالیٰ چه په اول کښی د رمضان المبارک د روژی د نیولو حکم وفرمایه، او د معذرت له سببه ئی مریض او مسافر ته د افطار کولو اجازه فرمایله، او په نورو ورځو کښی ئی د هغو قضا شویو ورځو په شمار د هغو قضایی په مونږ او تاسی باندی واجبه وګرځوله، او په دی قضایی کښی ئی د یوځای یا سره جلا جلا (جدا جدا) نیولو قید له منځه وویست، نو په دی کښی ئی زمونږ او ستاسی د سهولت او د آسانی لحاظ وکړ، چه په مونږ او تاسی باندی څه ربړ او تکلیف واقع نه شی، او دا هم منظور دی، چه تاسی د خپلی روژی شمیر

پوره کړئ، څو چه په ثواب کښي مو څه لږوالي رانشي، او دا مو هم تر نظر لاندي وي، چه تاسي د دي خير او خورا (ډير) ښي طريقي په هدايت د پاک الله لويي او عظمت بيان کړئ، او د هغه د عزت، جبروت او کبريا يادونه وکړئ! او دا هم مطلوب دی چه پر دغو نعمتونو باندي شکر وباسئ! او د شکرکوونکو په ډله کښي ننوځئ! ای الله العالمينه! ثنا او صفت، لويي او شکر کول تا لره ښايي، چه روژی غوندي يو مفيد اواعلیٰ او ګټور (فائده مند) عبادت دی پر مونږ باندي فرض کړی دی! او د مشقت او تکليف په حالت کښي دی آساني هم فرمايلي ده!، او د فراغت په وخت کښي دی د دی نقصان د جبيری لاره هم راښوولي ده!.

---

وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ ۖ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ ۖ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ ﴿١٨٦﴾

---

او کله چه پوښتنه وکړی (ای محمده!) له تا څخه بندګان زما (له لريوالي او نژديوالي) زما نو بيشکه زه نژدی يم (دوی ته په علم او اجابت سره)، قبلوم زه سوال د غوښتونکي په هغه وخت کښي چه وبولي ما نو ښايي چه دوی هم ومني حکم زما(طاعت) او ټينګ دی اوسی په ايمان په ما باندي ښايي چه دوی په سمه لاره محکم پاتي شي.

---

**تفسير:** ړومبی داسي حکم و، چه د رمضان المبارک د شپي په اوله برخه کښي خوړل او څښل او ښځو ته نژدی کيدل روا وو، مګر وروسته له ويده کيدلو څخه به دا ټول شيان ممنوع کيدل. ځينو خلقو له دی حکم څخني چپ (خلاف) کار وکړ، او له ويديدلو څخه وروسته له خپلو ښځو سره نژدی شول، بيا زمونږ د پاک رسول صلی الله عليه وسلم حضور ته راغلل، او د خپلي خطا او قصور اظهار ئی سره له حسرت او ندامت وکړ، او د توبی په نسبت ئی له ده مبارک څخه پوښتني وکړی. نو په دی مناسبت دا آيت نازل شو ستاسي توبه مو ومنله او تاکيد وشو چه د الله تعالیٰ احکام ومنئ، او پخواني حکم منسوخ وګڼئ، او وروسته له دی نه اجازه ورکړه شوه، چه د رمضان المبارک په ټولو شپو کښي له ماښامه تر سپيده داغه پوری تاسي خورئ! او څښئ! او له خپلو ښځو سره ناسته ملاسته کړئ! چه د هغی ذکر به وروستني آيت کښي راځي. پخواني آيت کښي پر بندګانو د هغه سهولت او عنايت ذکر چه راغلی ؤ، دلته د هغه تاکيد او تائيد له دی قربت، اجابت او اباحت څخه لا زيات شو. او د دی آيت د ربط سبب دا هم کيدی شي چه په ړومبني آيت کښي د الله تعالیٰ د لويي او عظمت حکم بيان شوی ؤ، نو په دی نسبت ځينو خلقو پوښتني وکړی چه «زمونږ رب که لری وی نو مونږ به په زور سره ورغږ کړو. او که نژدی وی نو ورو ورو به ورسره وغږيږو» په دی سبب دا آيت نازل شو يعني الله تعالیٰ نژدی دی. هره

خبره اوری. که ورو ورو وغږیږئ!، او که په چیغو ورناری کړئ! هغه تول اوری. په هغو ځایو کښې چه په زور سره د تکبیر ویلو حکم شوی وی د هغو وجوه او اسباب، نور او په همغو ځایو پورې محدود او خاص دی. او سبب ئې دا نه دی چه الله تعالیٰ (معاذ الله) ورو خبره نه اوری.

## اُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَآئِكُمْ ۚ

حلال کړی شوی دی تاسی ته په شپه د روژې کښې یوځای والی (جماع) ښځو خپلو سره

**تفسیر:** د رمضان المبارک په شپو کښې چه وروسته له خوبه خوړل او څښل او له خپلو ښځو سره نژدې کیدل حرام وو، په هغه کښې ئې هم آسانی وفرمایله، اوس که د شپې په هره برخه کښې مو هرې مشروعې او مرغوبې چارې ته زړه کیږی، هغه وکړئ!

## هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ۗ

دوی لباس دی تاسی لره او تاسی لباس یئ دوی لره.

**تفسیر:** له لباس او کالیو (جامو) څخه خورا (ډیر) اتصال او ډیر اختلاط مقصود دی، یعنی همغسی چه ستاسی په وجود کالی (کپړې) نښتی او پیوست دی، هم دا رنګه ښځه او نارینه هم ډیر سره نژدې او د شودو او شکرې په شان یو له بل سره ګډون او امتزاج لری.

## عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَخْتَانُونَ أَنفُسَكُمْ

معلوم دی الله ته چه بیشکه تاسی یئ چه خیانت کوئ په ځانو خپلو.

**تفسیر:** له خپل نفس سره له خیانت کولو څخنی مطلب دا دی، چه له ویدیدلو څخه وروسته تاسی خپلو ښځو ته نژدې کیدئ!. او د پاک الله د حکم د مخالفت لامله (له وجې) تاسی خپل ځانونه ګنهګارول، چه د هغه له سببه ستاسی نفس د عقاب مستحق ګرځیده، او ستاسی په ثواب کښې نقصان پیښیده، نو پاک الله په خپل فضل او کرم سره تاسی معاف کړئ او وروسته له دی تاسی ته اجازه وشوه، چه په توله شپه کښې هر هغه حلال عمل چه مو زړه غواړی ویې کړئ!.

فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنْكُمْ ۚ فَالْـٰٔنَ بَاشِرُوهُنَّ وَابْتَغُوا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ ۚ

پس رجوع ئې په رحمت سره وکړه په تاسي باندې او عفوه ئې وکړه له تاسي (د تېر خيانت) نو اوس جماع کوئ! له خپلو ښځو سره (د روژې په شپو کښې) او وغواړئ! هغه شي چه ليکلي (مقرر کړی دی) الله ستاسي له پاره.

**تفسير:** يعني هغه اولاد چه په لوح محفوظ کښې ستاسي له پاره د الله تعالىٰ له لوري مقدر شوی دی، ښايي چه د ښځو په مباشرت کښې همغه مطلوب وی، او تش شهواني کارونه مو مقصود نه وی. په دې کښې د عزل کراهت، او د لواطت ممانعت ته هم اشاره ده.

وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْاَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْاَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ۪

او خورئ! او څښئ! تاسي تر هغه پورې چه ښکاره شي تاسي ته تار سپين (جلا) (جدا) له تاره توره (چه سپين تار) له سبا څخه (دی).

**تفسير:** يعني همغسې چه په توله شپه کښې د مجامعت اجازه ورکړې شوې ده، هم داسې د رمضان المبارک په شپو کښې هم تر سپيده داغه پورې د خوړلو او څښلو اجازه ورکړې شوې ده.

ثُمَّ اَتِمُّوا الصِّيَامَ اِلَى الَّيْلِ ۚ

بيا پوره کړئ! روژه (خپله) تر شپې پورې،

**تفسير:** يعني له سپيده داغه څخه تر شپې پورې خپلې روژې پوره کړئ! له دې څخه دا هم راښکاره شوه چه د څو ورځو داسې متصله روژه نيول، چه د شپې له مخې هم افطار ونه شي مکروه ده.

وَلَا تُبَاشِرُوهُنَّ وَاَنْتُمْ عٰكِفُونَ فِي الْمَسٰجِدِ ؕ

او مه نژدی کیږئ! ښځو ته (په جماع سره) حال دا چه تاسی معتکفان یئ په مسجدو کښی.

**تفسیر:** یعنی په روژه کښی د شپی له مخی د مباشرت اجازه شته. مگر د اعتکاف په شپو کښی په شپه او ورځ په هیڅ وخت کښی ښایی چه خپلی ښځی ته ورنژدی نشئ په مسجد کښی وی که د باندی.

تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ فَلَا تَقْرَبُوْهَا ۚ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ اٰيٰتِهٖ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿١٨٧﴾

دا احکام او حدودد الله دی نو مه نژدی کیږی، دوی ته (په ماتولو سره) هم داسی (لکه چه دا ئی درته بیان کړل) بیانوی الله آیتونه خپل له پاره د خلقو چه دوی ځان وساتی (د دی حدودو له مخالفته).

**تفسیر:** هغه د حل او حرمت حکمونه چه د روژی او اعتکاف په نسبت تیر شول، د الله تعالیٰ له خوا مقرر شوی دی، ښایی چه له دغو ځخه هیڅ تجاوز ونه کړئ! بلکه هغو ته هیڅ مه نژدی کیږئ! یا ئی مطلب دا دی چه پخپله رأیه یا د بل کوم حجت په اساس د یوه ویښته په اندازه هم ځنی مه لری کیږئ!.

وَلَا تَاْكُلُوْٓا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ

او مه خورئ! مالونه خپل (چه واقع دی) په منځو د تاسو کښی په ناحقه سره

**تفسیر:** له روژی ځنی د نفس طهارت مقصود و اوس مالونو د پاکوالی بیان کیږی. او ښکاره شوه چه د حلال مال د نه خوړلو حکم خو یوائی د روژی په ورځو پوری ترلی دی، مگر د حرام مال نه خوړل، او روژه تری نیول، د ژوند په ټول عمر کښی یو ضروری امر دی. او د هغه له پاره کومه تاکلی (مقرره) زمانه او حد نشته، لکه غلا، خیانت تگی، رشوت، غصب، قمار، ناروا بیه، سود او نور چه په دغه ډول (طریقه) د مال گټل، بالکل حرام او ناجایز دی.

وَتُدْلُوْا بِهَآ اِلَى الْحُكَّامِ لِتَاْكُلُوْا فَرِيْقًا

## مِّنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالْإِثْمِ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١٨٨﴾

او مه رسوئ! دا مال تر حاكمانو پورې له پاره د دې چه وخورئ (تاسې په دې رسولو سره) يو څه له مالو د خلقو څني په ظلم (ناحقه سره) او تاسې پوهيږئ (چه دا ظلم دى)

**تفسير:** «مه ئې رسوئ تر حاكمانو پورې». يعنې د كوم سرې د مال خبر ظالمو حاكمانو ته مه رسوئ يا خپل مال د رشوت په ډول (طريقه) حاكمانو ته مه وركوئ! چه حاكم د خپل ځان مل كړئ، او د بل چا مال د هغه په زور سره وخورئ!. هم دا راز (قسم) د دروغو په شاهدۍ، يا د دروغو په دعوى، د بل چا مال مه آخلئ! او حال دا چه تاسې په خپله ناحقې هم پوهيږئ!

## يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ الْأَهِلَّةِ ۖ

پوښتنه كوى خلق له تا څخه (اى محمده!) له حاله د نويو مياشتو

**تفسير:** لمر تل په يو صورت او په يو حال وى، او د سپوږمى شكل تل بدليږي، او د هغې د رڼا (رڼرا) مقدار تل كميږي او زياتيږي نو ځكه خلقو د سپوږمۍ د دې زياتوالي او كموالي په نسبت زمونږ له رسول اكرم صلى الله عليه وآله وصحبه وسلم څخه پوښتنې وكړې، نو دا آيت نازل شو. په پرومبنى آيتونو كښې د رمضان المبارك د مياشتې او د روژې ذكر ؤ په دې آيت كښې د هلال ذكر دى، او د روژې تعلق د هلال له رؤيت سره ښكاره دى، ځكه چه يو په بل پورې اړه (حاجت) لرى وروسته له دى نه د «حج» او د هغه د احكامو ذكر راځي چه د هلال ذكر له هغه سره هم ښه مناسبت لرى.

## قُلْ هِيَ مَوَاقِيتُ لِلنَّاسِ وَالْحَجِّ ۗ

ووايه (اى محمده! دوى ته) چه دا مياشتې تاكلې (مقرر) شوى وختونه دى له پاره د خلقو او د حج.

**تفسير:** يعنې اى محمده! دوى ته ووايه چه د سپوږمۍ په ختلو او بدلون سره ډيرې چارې او معاملې تعلق لرى. او د سپوږمۍ په وسيله دينى ورځې، د عباداتو او معاملاتو وختونه، د قرض، اجارې، حمل، رضاعت، روژې، زكوة، عدت، عقود، شروط، مزدورى او د نورو شيانو نيتې څرګنديږي، او هره يوه نيته او تاريخ له هغې څخه پر ډير ښه شان سره ښكاريږي. په تيره بيا د

«حج» د تخصيص بله وجه هم دا ده چه ذيقعدة الحرام، ذيحجة الحرام، محرم الحرام او رجب المرجب دا څلور مياشتې حرامې مياشتې بللې کيدې چه په دغو مياشتو کښې جنګ او وژل حرام ؤ که په دغو مياشتو کښې به عربو ته کوم جنګ پيښيده، نو هغوی به تاريخونه سره وړاندې وروسته کول، او په يوه پلمه (تدبير) او بهانه سره به ئې په هماغو حرامو مياشتو کښې جنګونه کول، مثلاً که په «ذی الحج» يا «محرم» کښې به له جنګ سره مخامخ کيدل، نو هغه به يې په «صفر» سره تعبير کاوه، او کله چه به په «صفر» کښې کوم کار د دوی په مخ کښې راته، نو هغه به يې په «ذی الحج» او «محرم سره ياداوه، نو د دوی د دې خيال د ابطال له امله (وجې) ئې دلته د «حج» تصريح وفرمايله، هغه ورځې چه حق تعالیٰ جل وعلیٰ شانه د «حج» له پاره ټاکلې (مقرر کړې) دی، په هغو کښې وړاندې وروسته کول، هيڅکله جايز نه دی. اوس له دې نه وروسته د «حج» او د هغه متعلقات او احکام تر ډير ځای پورې ذکر کيږي.

وَلَيْسَ الْبِرُّ بِأَنْ تَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ ظُهُورِهَا وَلَٰكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقَىٰ ۗ وَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَابِهَا ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٨٩﴾

او نه ده نيکي (دا کار) چه راځئ (تاسې) کورو ته د شا له لورې د هغو او ليکن (خاوند) د نيکۍ هغه څوک دی چه ويريږي (له الله) په ترک د مخالفت کښې او راځئ کورو ته له طرفه د دروازو د هغوی او وويريږئ له الله څخه د دې له پاره چه تاسې خلاص شئ! (د الله له عذاب) او په خپل مراد ورسيږئ!

**تفسير:** د جاهليت په زمانه کښې داسې دود (رواج) او دستور ؤ، چه کله به دوی د «حج» احرام تاړه، او له خپلو کورو څخې به وتل، او بيا به اتفاقاً هغوی ته کوم هسې ضرورت پيښيده چه بيرته به د خپلو کورو ورتګ ته اړ (محتاج) کيدل، نو دروازو له لارې به نه ورتلل، او په بام باندې به ورختل، او له هغې لارې به خپلو کورو ته ننوتل، يا به د شا له خوا پکښې ننوتل، يا به ئې د شا له لورې سورې واهه، او پکښې به ننوتل، او دا کار به ئې نيکي او ښيګڼه (فائده) ګڼله، دا دی چه پاک الله دا کار غلط وښود.

**(فائده):** په پرومبنی جمله کښې د «حج» ذکر ؤ او دا حکم هم د «حج» په نسبت دی نو په هم دې مناسبت سره يې دا حکم هم دلته بيان وفرمايه. ځينې عالمان وايې چه ظاهر دا دی چه په آيت کښې له «اهله» ځنې د «حج» مياشتې مرادې دي يعنې شوال المکرم، ذی قعدة الحرام او لس شپې د ذی حجة الحرام چه «حج» او «احرام» په دغو کښې کيږي. خلقو زمونږ له رسول الله صلی الله عليه وسلم ځنې پوښتنې وکړې، چه د «حج» ورځې هم دا ورځې دي؟ که په نورو ورځو کښې هم «حج» کول روا دي؟ پاک خدای د هغوی په ځواب کښې وفرمايل چه د حج د ادا

کولو له پاره د حج میاشتي مقرري او معيني دي، او د دي خبري په مناسبت د «احرام» په وخت کښې خپل کور ته د بيرته ورتګ ذکر هم وشو. له دې څخه دا هم راښکاره کيږي، چه له خپله ځانه جائز او مباح شيان د نيک کار په شان ګرځول، او هغه په دين کښې داخلول، مذموم او حرام دي. چه له دې څخه د ډيرو شيانو بدعت او مذموميت راښکارېږي.

## وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ

او جنګ کوئ (ای مؤمنانو!) په لاره د الله کښې! له هغو کسانو سره چه جنګ کوی له تاسی سره.

**تفسير:** د حضرت ابراهيم عليه السلام له وخته راهيسې مکه معظمه دارالامن ده. که د چا لاس به په خپل دښمن باندې هم په مکه معظمه کښې بر کيده، نو به ئې څه غرض ورسره نه کاوه، او په اشهرالحرم کښې به چه ذی قعدة الحرام، ذی حجة الحرام، محرم الحرام او رجب المرجب دی هم کامل امنيت ؤ، په دې څلورو مياشتو کښې به په ټول عربستان کښې جنګ او جګړه نه کيده، او هيچا به چاته څه نه ويل، د هجرت په شپږم کال د ذی قعدة الحرام په مياشت کښې کله چه حضرت محمد رسول الله صلى الله عليه وعلىٰ آله واصحابه وسلم له خپلو اصحابو رضی الله تعالىٰ عنهم سره د عمرې په قصد او د بيت الله د زيارت په نيت مکې معظمې ته تشريف يووړ، نو له مکې معظمې سره نژدی مشرکين سره راټول شول، او مسلمانان ئې د جنګ په توربريښو، د مکې معظمې له زيارت څخه ستانه (صفت) کړل. په پای (آخر) کښې ئې په دې باندې روغه سره وکړه، چه اوس دی مسلمانان بې د مکې شريفې له زيارت کولو څخه، بيرته لاړ شي، بل کال ته دې بيا ورته راشي، او عمره دې ادا کړي، او يوائې درې شپې دې په داد سره په مکې مکرمې کښې تيرې کړي. کله چه په بل کال کښې د هجرت په اوم کال د ذی قعدة الحرام په مياشت کښې رسول الله مبارک د مکې شريفې قصد وفرمايلو نو د دوی اصحابو ته داسی انديښنه ورپيدا شوه چې که مکې مکرمې خلق سږ کال هم وعده خلافي وکړي، او جنګ ته بيا تيار شي، نو مونږ به څه کوو؟ که وجنګيږو، نو دا جنګ به په اشهر الحرم کښې او په خپله په بيت الحرام کښې، او په حالت د «احرام» کښې څرنګه وی؟ که ونه جنګيږو، نو څرنګه به خپله عمره ادا کوو؟ نو په دی مناسبت د الله تعالىٰ داسی حکم نازل شو «که هغوی په دی اشهر الحرم کښې له خپل عهد ځنې مخالفت، او له تاسی سره جنګ وکړی، نو تاسی هم بلا تأمله هغوی سره وجنګيږئ!» هو! نه ښايي چه ستاسی له خوا په جنګ ابتدا او يا زيادت پکښې وشي، د «حج» په ضمن کښې د حديبيې د عمرې په مناسبت له کفارو سره د قتال ذکر هم راغلی دی، نو ځکه د «جهاد» د ځينو آدابو او احکامو ذکر هم د دی مقام په مناسبت کيږی، وروسته له هغه بيا د «حج» د احکامو ذکر کيږی.

وَلَا تَعْتَدُوْا

او مه کوئ زیادت (پر هیڅچا باندی ای مؤمنانو!)

تفسیر: یعنی تیری مه کوئ!. د دی معنٰی دا ده چه په جنګ کښی دی وړوکی، ښځی او سپین ږیری قصداً ونه وژل شی! او دغه په بیت الحرام کښی دی په جګړو باندی لومړی پیل (ابتدا) ونه کړ شی.

إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ ۝ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُمْ مِنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ

بیشکه چه الله نه خوښوی تیریدونکی له حده. او وژنئ! دوی په هر ځای کښی چه مومئ دوی اوباسئ! دوی له هغه ځایه چه ایستلی دی دوی تاسی

تفسیر: هر چیری چه یی مومئ وی باسئ یعنی په «حرم» کښی وی یا پرته (علاوه) له حرمه. له هغه ځایه چه تاسی یی ایستلی یئ یعنی له مکی معظمی څخه یی وباسئ.

وَالْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ ۚ

او فتنه (شرک او له دین څخنی اړول) دیر سخت دی له وژلو څخه.

تفسیر: یعنی له دین څخنی ګرځیدل، یا له دین څخنی د بل چا ګرځول، له هغو وژلو څخه چه په اشهر الحرم کښی واقع شی، دیره لویه ګناه ده. مطلب ئی دا دی چه د مکی معظمی په حرم کښی د کفارو شرک او کفر او نورو ته د کفر او شرک په لوری لار ښوونه کول دیر قبیح او خورا (دیر) خراب کار دی. نو تاسی ای مسلمانانو د حرم له مقاتلی څخه هیڅ اندیښنه مه کوئ! او د هغوی د تیری ځواب په توره سره ورکوئ!

وَلَا تُقَاتِلُوهُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ حَتَّىٰ يُقَاتِلُوكُمْ

فِيهِ ۚ فَإِن قَـٰتَلُوكُمْ فَٱقْتُلُوهُمْ ۗ كَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلْكَـٰفِرِينَ ﴿١٩١﴾

او جنګ مه کوئ! له دوی سره په نزد د مسجدالحرام کښې تر هغه پورې چه وجنګیږی دوی له تاسی سره په دغه (حرم) کښې پس که جنګ وکړی دوی له تاسی سره نو وژنئ! دوی هم داسی (لکه تیری شوی جزا) جزا ده د کافرانو.

**تفسير:** يعنی مکه معظمه هرومرو (خامخا) د امن ځای دی. ولی که هغوی پر تاسی باندی برید وکړی، یا په ظلم باندی لاس پورې کړی، او په ایمان راوړلو کښې له تاسی سره دښمنی وکړی، چه دا خبره له وژلو څخنی هم سخته ده، نو بیا هغوی لره امان نه پاتی کیږی، او هر چیری چه ئی ومومئ ویی وژنئ! آخر ته چه مکه معظمه فتح شوه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم هم داسی امر وفرمایه «هغه څوک چه د مسلمانانو په مخ کښې توره په لاس ودریږی، ویی وژنئ! او نورو کسانو ته امن ورکړئ!»

فَإِنِ ٱنتَهَوْا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٩٢﴾

پس که منع راوړی (له شرکه نو الله به ئی وبخښی) نو بیشکه الله ډیر بخښونکی پوره رحم لرونکی دی

**تفسير:** يعنی سره له دومره خبرو که اوس هم دوی ایمان راوړی، او له کفر او شرک څخنی توبه وباسی، نو د هغوی توبه منله کیږی.

وَقَـٰتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ
لِلَّهِ ۖ فَإِنِ ٱنتَهَوْا۟ فَلَا عُدْوَٰنَ إِلَّا عَلَى ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿١٩٣﴾

او جنګ کوئ تاسی! له دوی سره تر هغه پورې چه پاتی نشی فتنه (شرک او فساد) او شی دین (حکم) خاص الله لره، پس که چیری وګرځیدل (دوی له شرکه نو تاسی تجاوز مه کوئ پر دوی باندی) نو نشته هیڅ تیری مګر (خو شته جزا د ظلم) پر ظالمانو باندی.

**تفسير:** يعنی له کفارو سره د دی له امله (وجی) جنګ وکړئ! چه ظلم او تیری بیخی (بالکل)

ورک شی، او دوی ته داسې یو قوت او قدرت پاتې نشي چه د هغه په واسطه نور خلق کافران کړی، او له سمی لاری څخنی ئی وباسی، او خاص د الله تعالیٰ احکام جاری وی. که دوی له شرک څخنی مخ واړوی، نو تیری او زیادت پر بل هیچا نشته، پرته (علاوه) له ظالمانو څخه یعنی هغه کسان چه له بدی څخنی لاس آخلی، هغوی له ظلم او تجاوز څخنی وځی، نو پر دوی باندی تیری او زیادت مه کوئ! هو! هغه کسان چه له فتنی څخنی نه اوړی نو په ډیره مینه سره هغوی وژنئ!

اَلشَّهۡرُ الۡحَرَامُ بِالشَّهۡرِ الۡحَرَامِ وَالۡحُرُمٰتُ قِصَاصٌ ؕ فَمَنِ اعۡتَدٰی عَلَیۡکُمۡ فَاعۡتَدُوۡا عَلَیۡهِ بِمِثۡلِ مَا اعۡتَدٰی عَلَیۡکُمۡ ۪ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعۡلَمُوۡۤا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الۡمُتَّقِیۡنَ ﴿۱۹۴﴾

میاشته حرامه په بدل د میاشتی حرامی کښی ده. او تعظیمونه (د دی شیانو) سره برابر دی پس هر چا چه تیری وکړ پر تاسی باندی نو تاسی هم تیری کوئ! په هغوی باندی په شان د هغه چه تیری ئی کړی ؤ پر تاسی باندی او وویریږئ له الله څخه! او پوه شئ! چه بیشکه الله له پرهیزګارانو سره دی (په علم او نصرت سره)

**تفسیر:** دا د حرمت میاشت یعنی ذی قعدة الحرام چه د عمری د قضا لپاره پکښی دروميء د هغه حرمت میاشتی په ځای ده، چه د پروسږکال تیر شوی کال په ذی قعدة الحرام کښی تاسی د کفارو له خوا د عمری او د بیت الله شریف له زیارت څخه ممنوع شوی وئ، او پری ئی نه ښودئ چه مکی معظمی ته لاړ شئ، یعنی اوس تاسی په ډیره خوښی سره له هغوی څخه خپل بدل واخلئ! ځکه چه په ادب او حرمت لرلو کښی برابری ده. یعنی که کوم کافر د حرام د میاشتی عزت او حرمت وکړی او په دی میاشت کښی له تاسی سره جنګ ونه کړی، نو تاسی هم همغسی وکړئ. مکیانو (مکی خلقو) چه پروسږکال (تیر شوی کال) پر تاسی باندی ظلم وکړ، نه ئی د حرام د میاشتی حرمت وساته، او نه ئی د بیت الله شریف پت، نه ئی ستاسی احرام ته وکتل، او نه ئی لحاظ وساته، او تاسی پر هغو باندی صبر وکړ، که دا ځلی هم هغوی له دی تولو حرمتو څخه سترګی پټی کړی، او جنګ ته تیار شی: نو تاسی هم د هیڅ حرمت لحاظ ونه کړئ! بلکه خپل وړاندی او وروسته تول کسات (بدله) او انتقام ورڅخه واخلئ! مګر هر کار چه کوئ، ښایی چه په هغه کښی له **(رب العٰلمین جل وعلیٰ شانه)** څخه وویریږئ! او د الله تعالیٰ له احکامو څخه مخالف هیڅ یو کار مه کوئ! ځکه چه پاک الله خامخا د پرهیزګارانو ناصر او مددګار دی.

وَأَنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ

او صرفوئ (مالونه خپل) په لاره د الله كښې! او مه غورځوئ ځانونه خپل په هلاكت كښې (چه جهاد ترك كړئ! او خپل مالونه په غزا كښې ونه لګوئ!)

**تفسير:** مطلب دا دی چه د الله تعالیٰ په اطاعت يعنی جهاد او نورو ښو كارونو كښې خپل مال صرف كړئ! او خپل ځانونه په هلاكت كښې مه اچوئ!. يعنی چه جهاد پريږدئ! او په هوسايی (آرام) سره كينئ يا خپل مال په جهاد كښې صرف نه كړئ! چه له دی وضعيت (حالت) څخه به تاسی ضعيفان او دښمن به مو قوی شي.

وَأَحْسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴿١٩٥﴾ وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ

او نيكی كوئ! (له هر چا سره مخصوصاً له غازيانو سره) بيشكه چه الله دوستی كوی له نيكو كارانو سره (چه ثواب وركوی دوی ته) او پوره ادا كړئ حج! او عمره خاص الله لره.

**تفسير:** د «حج» په ضمن كښې ئی د «جهاد» هغه ذكر چه مناسب ؤ، بيان وفرمايه، او پس بيا د «حج» او عمری احكام راښيی.

فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ وَلَا تَحْلِقُوا رُءُوسَكُمْ حَتَّىٰ يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ

بيا كه چيری منع كړی شوئ (له تمامولو د حج او عمری) نو (واجب دی پر تاسی) هغه څه چه آسان دی له هديی څخه (چه مذبوحه ده) او مه خريئ! (ای محصرانو!) سرونه خپل تر هغه پوری چه ورسيږی هديه (چه مذبوحه ده) ځای د حلالی خپلی ته

**تفسير:** مطلب دا دی کله چه څوک «حج» یا «عمره» شروع کری یعنی احرام وتری، نو پر هغه باندی دا خبره لازمه ده چه پوره ئی کری، او پای (آخر) ته ئی ورسوی، او داسی نشی کیدی چه هغه په نیمایی کښی پریږدی، او له احرام څخه ځان وباسی. مگر که کوم دښمن یا مرض ورپیښ شی او د هغه له سببه «حج» او «عمره» پای (آخر) ته ونه شی رسولی، نو پر ده باندی وینه اوړی، چه سم له خپل توان سره حیوان حلال کری، چه ادنی ئی یو پسه دی او دا حیوان به د بل چا په وسیله مکی شریفی ته لیږی، او دا دی هم ورته ووایی چه تر دغی ورځی پوری دا مذبوحه د حرم ځمکی ته ورسوه ! او هلته ئی ذبحه کړه!، او هر کله چه داده شی، چه اوس د ده هغه مذبوحه خپل تاکلی (مقرر) ځای حرم شریف ته رسیدلی ده، او ذبحه شوی ده، نو هلته دا خپل سر لنډ یا وخریی او پخوا له هغه دی هیڅکله ځان نه حلالوی. داسی وینی ته د «حصار وینه» وایی چه د «حج» یا د «عمری» د نه تمامولو له سببه پر «حاجی» یا «معتمر» باندی اوړی.

---

فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِنْ رَأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِنْ صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ

---

نو هر څوک چه وی له تاسی ځنی ناجوړه یا وی په ده پوری ضرر له (طرفه) د سر د ده نو لازمه ده په ده باندی فدیه له روژی څخه یا له خیراته یا له حلالولو (د پسه)

---

**تفسير:** یعنی که د «احرام» په حالت کښی څوک رنځور شی یا د هغه په سر کښی درد یا زخم وی نو هغه لره د ضرورت له امله (وجی) د احرام په حالت کښی هم سر خریبیل، یا د ویښتانو لنډول روا دی. مگر د هغه «فدیه» دی ورکوی، چه هغه د دری ورځو روژه نیول، یا شپږو تنو مسکینانو ته طعام ورکول دی یا د یوه پسه (گډ) حلالول دی دا وینه د «جنایت وینه» بولی چه د «احرام» په حالت کښی د ناچاری له کبله (وجی) د «احرام» د مخالفو امورو په کولو باندی لازمیږی.

---

فَإِذَا أَمِنْتُمْ فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ

نو هر کله چه په امن شئ پس هر چا چه نفع واخیسته په عمری سره (چه یو ځای ئی کړه) له حج سره نو (واجب) دی پر ده باندی هغه چه آسان وی له هدیی څخه (چه مذبوحه ده)

**تفسیر:** یعنی هغه «محرم» چه د دښمن او مرض له خوا مطمئن وی، اعم له دی نه چه هغه ته له سره کومه اندیښنه ورپیښه نشی، یا خو دښمن یا رنځوری څه عارضه او حادثه ورپیښه شوی وی، خو په خیر سره زائله او له مینځه ورکه شوی وی، او د هغه له امله (وجی) د هغه په احرام او «حج» او «عمره» کښی څه خلل ورپیښ شوی نه وی، هغه لره ښایی چه فکر وکړی که «حج» او «عمره» ئی دواړه سره یو ځای ادا کړی وی یعنی قران یا تمتع ئی کړی وی او افراد ئی نه وی کړی. نو په ده باندی یو پسه یا د غوبی یا د اوښ اوومه برخه قربانی اوړی، چه دی وینی ته د قران او تمتع وینه وایی او زمونږ د لوی امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په مذهب کښی د قران او تمتع د غوښی خوراک روا دی. ځکه چه دی (د شکر وینه) ورته وایی. ولی امام شافعی رحمة الله علیه دی ته (د جبر وینه) وایی، او قربانی کوونکی ته اجازه نه ورکوی چه د هغی له غوښی ځنی څه وخوری.

فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ فِى الْحَجِّ وَسَبْعَةٍ اِذَا رَجَعْتُمْ ؕ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ؕ

هر چا چه ونه مونده هدیه (چه مذبوحه ده) نو (واجب) دی په ده باندی روژی د دری ورځو په (ورځو د) حج کښی او اووه ورځی (نوری) کله چه وګرځئ (تاسی) دا لس ورځی دی پوره

**تفسیر:** یعنی هغه څوک چه قران او تمتع ئی وکړه، او مذبوحه ورته میسره نه شوه، نو هغه لره ښایی چه دری ورځی د «حج» په ورځو کښی روژه ونیسی، چه د «عرفی» یعنی د «ذی الحجی» په نهمه ورځ کښی پای (آخر) ته ورسیږی، او اووه ورځی د «حج» له فراغت څخه وروسته روژه ونیسی، چه دا ټولی سره لس ورځی شوی.

ذٰلِكَ لِمَنْ لَّمْ يَكُنْ اَهْلُهٗ حَاضِرِى الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ؕ

دا (حکم د تمتع) هغه چا لره دی چه نه وی عیال د ده اوسیدونکی په (حوالی (احاطه) د) مسجد حرام کښې.

**تفسیر:** یعنی قران او تمتع هغه چا لره مخصوص دی چه په مسجد الحرام کښې یعنی په مکه معظمه کښې یا هغې ته نژدې نه اوسیږی، بلکه د «حل» یعنی له «میقات» څخه د باندې هستوګنه ولری. هغه کسان چه دننه په مکی معظمی کښې اوسیږی، هغوی دی یواځې (افراد) وکړی.

وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوٓا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۱۹۶﴾ اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَّعْلُوْمٰتٌ

او ویریږئ له الله څخه او پوه شئ! چه بیشکه الله ډیر سخت عذاب ورکوونکی دی (وخت د) حج (څو) میاشتی معلومی دی

**تفسیر:** د شوال المکرم له اول څخه نیولی (شروع) د لوی اختر یعنی د ذیحجة الحرام د لسمی شپې تر سحر پورې د دی میاشتو نومونه (اشهر الحج) دی. ځکه چه د حج احرام د هم دی مودی په منځ کښې وی، که پخوا له دی نه څوک د حج «احرام» وتړی نو هغه به ناجائز یا مکروه وی. یعنی د حج له پاره څو میاشتی مقرری دی. او تولو ته ښکاره دی، هغه تغیر او تبدیل چه د عربو مشرکینو به د خپل ضرورت له مخې په دی میاشتو کښې کاوه، او د هغو په نسبت په بل آیت کښې داسې فرمایلی شوی دی ﴿ اِنَّمَا النَّسِیْٓءُ زِیَادَةٌ فِی الْکُفْرِ ﴾ هغه بیخی بی اصله او باطل دی.

فَمَنْ فَرَضَ فِيْهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوْقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ ۗ وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ يَّعْلَمْهُ اللّٰهُ ۗ

نو هر چا چه فرض کړ (په خپل ځان) په دی میاشتو کښې حج نو نه دی کوی جماع (او نه دواعی د هغې) او نه ګناهونه او نه جګړې په (ورځو) د حج کښې. او هر څه چه کوئ (تاسی) له نیک کار څخنی نو پوهیږی په هغه باندی الله

**تفسیر:** «حج» ئې لازم کړ یعنې «احرام» ئې وتاړه په داسې دول (طريقه) چه په زړه ئې نیت وکړ، او په خوله ئې «تلبیه» وویله.

وَتَزَوَّدُوا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَىٰ ۚ وَاتَّقُونِ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ ﴿١٩٧﴾

او توښه واخلئ (له ځانو سره) نو بیشکه بهتره د توښې ځان ساتل دې له سواله او ویرېږئ! له ما ځنې ای خاوندانو د (صافو) عقلو!.

**تفسیر:** یو داسې غلط دود (رسم) او دستور په کفر کښې دا هم ؤ چه بې د لارې د ښورې (خرچه) تش لاس «حج» ته تلل ئې ثواب ګڼل، او هغه ته به ئې «توکل» وایه، او هلته به تلل له هر چا ځنې به ئې سوال او غوښتنې کولې. نو الله تعالیٰ هغو کسانو ته چه قدرت لرې، امر ورکوی چه هغوی دې د لارې ښورې (خرچه) له ځان سره اخلې او بیا دې «حج» ته ځې او بې له زاد او راحلې دې لاړ نشی، چه هم په خپله دې سرګردانیږی، او نورو ته هم سرګردانی پیښوی.

لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَبْتَغُوا فَضْلًا مِنْ رَبِّكُمْ ۚ

نشته په تاسې باندې هیڅ ګناه په دې کښې چه غواړئ روزی له فضل د رب خپل

**تفسیر:** که د «حج» په سفر کښې سوداګری هم وکړئ څه ګناه نه لری، بلکه مباح ده. خلق له دې خبرې ځخه په شبهه کښې ؤ چه ښایی له تجارت کولو ځخه به په «حج» کښې څه نقصان پیښیږی، نو اوس داسې هدایت صادر شو هغه څوک چه اصلی مقصود ئې «حج» وی او د هغه په ضمن کښې سوداګری هم وکړی، نو د هغه په ثواب کښې به څه نقصان نه راځی.

فَإِذَا أَفَضْتُمْ مِنْ عَرَفَاتٍ فَاذْكُرُوا اللَّهَ عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ ۖ

نو هر کله چه راکوز شئ (د بیت الله طواف ته) له عرفات ځخه نو یادوئ الله په نزد د مشعر الحرام (آخر د مزدلفې کښې)

**تفسیر:** مشعرالحرام په مزدلفه کښې یو غر دی چه په هغه باندې امام درېږی. په دې غره باندې درېدل افضل دی. او په ټوله مزدلفه کښې هر چیری درېدل جائز او روا دی پرته (علاوه) د

(محسر) له کندی او وادی څخه، چه هلته دی نه دریږی.

وَاذۡكُرُوۡهُ كَمَا هَدٰىكُمۡ‌ۚ وَاِنۡ كُنۡتُمۡ مِّنۡ قَبۡلِهٖ لَمِنَ الضَّآلِّيۡنَ ﴿۱۹۸﴾

او یادوئ دی (یعنی الله) لکه چه لاره ئی درښودلی ده تاسی ته او بیشکه چه وئ تاسی پخوا له هدایته خامخا له ګمراهانو څنی.

**تفسیر:** یعنی کفارو خو به هم د پاک الله ذکر کاوه مګر په شرک سره، نو ښایی چه هسی ذکر دی ونه کړی شی، بلکه سره له توحیده ئی همغسی ذکر وکړئ چه تاسو ته ئی هدایت درکړی دی.

ثُمَّ اَفِيۡضُوۡا مِنۡ حَيۡثُ اَفَاضَ النَّاسُ وَاسۡتَغۡفِرُوا اللّٰهَ‌ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ﴿۱۹۹﴾

بیا راکوزیږئ (ای قریشو د طواف دپاره) له هغه ځایه (عرفات څخه) چه راکوزیږی (نور) خلق (مزدلفی ته) او مغفرت غواړئ له الله څخه د (خپلو ګناهونو) بیشکه چه الله ښه مغفرت کوونکی (د ګناهونو) پوره رحم لرونکی دی. (د اجر او ثواب په اکرام سره)

**تفسیر:** د کفر په زمانه کښی یوه غلطی دا هم وه، چه مکیان (مکی والا) به تر عرفاته پوری نه تلل، چه عرفات له حرم څخه د باندی دی. بلکه د حرم په حد کښی به چه مزدلفه ده، دریدل، او د مکی شریفی له قریشو څخه پرته (علاوه) نور تول به تر عرفات پوری تلل، او بیا به له عرفات څخه د طواف له پاره مکی شریفی ته راتلل. نو ځکه ئی وفرمایل له هغه ځایه چه تول خلق د طواف له پاره راځی. تاسی هم همغه ځای ته ورشئ، او له هغه ځایه له عرفات د طواف له پاره بیرته راشئ، او په خپلو پخوانیو ګناهونو باندی نادم اوسئ!.

فَاِذَا قَضَيۡتُمۡ مَّنَاسِكَكُمۡ فَاذۡكُرُوا اللّٰهَ كَذِكۡرِكُمۡ اٰبَآءَكُمۡ اَوۡ اَشَدَّ ذِكۡرًا‌ؕ

نو هر کله چه ادا کړل تاسی افعال د حج خپل نو یادوئ الله لکه یادول تاسی پلرونو خپلو لره (په جاهلیت کښی په فخر سره) بلکه ډیر زیات یادول

**تفسیر:** یعنی د ذیحجة الحرام په لسمه کښی چه د «حج» د افعالو یعنی د جمرو ویشتلو، قربانی کولو، سر خریيلو، یا د ویښتانو لندونو د کعبی شریفی د طواف او د صفا او مروی له سعی فارغ شوئ، نو د منیٰ د قیام په وخت کښی د الله تعالیٰ ذکر وکړئ! لکه چه د کفر په زمانه کښی تاسی د خپلو پلرونو او نیکونو ذکر کاوه، بلکه له هغه څخه دی هم زیات ذکر وکړ شی! دوی له قدیمی زمانی راهیسی داسی عادت درلود (لرلو) چه د «حج» له فراغت څخه وروسته به دری ورځی په منیٰ کښی دیره کیدل، او لوی بازار به ئی جوړاوه، او د خپلو پلرونو او نیکونو ستاینه (صفت) او یادونه به ئی کوله. او د دوی لوینی او فضایل به ئی بیانول. دا دی چه پاک الله له هسی ویناؤ څخه هغوی منع کړل او ویی فرمایل چه په دی ورځو کښی د الله تعالیٰ ذکر ډیر وکړئ او د هغه الله تعالیٰ جلت عظمته د لویی او عظمت یادونه کوئ!.

فَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِى الدُّنْيَا وَمَا لَهٗ فِى الْاٰخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ ﴿۲۰۰﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِى الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِى الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿۲۰۱﴾ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ نَصِيْبٌ مِّمَّا كَسَبُوْا

نو ځینی له خلقو څخه هغه څوک دی چه وایی ای ربه زمونږه! راکړه مونږ ته! په هغه دنیا (لږ ژوند) کښی (زمونږ برخه مال او جاه) او نشته ده لره په آخرت کښی هیڅ برخه او ځینی له دوی څخه هغه څوک دی چه وایی

(چه دنیا کړی غوره څوک په آخرت
بی له برخی به وی پاتی په قیامت)

ای ربه زمونږه راکړه مونږ ته! په دغه دنیا (لږ ژوند) کښی نیکی (نعمت) او په آخرت کښی نیکی (جنت) او وساته مونږ له عذابه د اور (د دوزخ) دغه کسان شته دوی لره لویه برخه له سببه د هغو (ښو اعمالو) چه کړی دی دوی (هغه)

**تفسیر:** ږومبی ئی فرمایلی ؤ چه د الله تعالیٰ ذکر وکړئ!. د نورو ذکر مه کوئ! اوس دا راښوول کیږی، چه د پاک الله ذکر کوونکی او له هغه څخه د مطلب غوښتونکی په دوه ډوله (قسمه) دی: یو خو هغه دی چه د هغوی مطلوب یوازی دنیا ده، او د هغوی دعا هم دغه ده: «هر هغه دولت او عزت چه مونږ ته راکول کیږی، په هم دی دنیا کښی دی راکړ شی» نو داسی خلق د آخرت له نعمتو څخه بی برخی دی. بل هغه دی چه د هغوی مقصود آخرت دی، چه د دنیا ښیګڼی (فائدو) او نیکی یعنی د عبادت توفیق او نور او د آخرت ښیګڼی (فائدو) او نیکی یعنی ثواب، رحمت او جنت دواړه غواړی، نو داسی کسانو ته په آخرت کښی د هغوی د حج او دعا او حسناتو پوره برخه وررسیږی.

څوک چه غواړی دین دنیا له خپل مولیٰ نه
په دارینو کښی به ئی زیات کړی له هر چانه

---

## وَاللّٰهُ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۲۰۲﴾

او الله ژر اخستونکی د حساب دی (چه ډیر ژر د تولو مخلوقاتو حساب خلاصوی.)

---

**تفسیر:** یعنی په قیامت کښی به له تولو څخه یو ځای او یو ځلی او په یوه شیبه حساب آخیست کیږی، یا دا چه قیامت لری مه ګڼئ ځکه چه هغه د جزا ورځ ډیر ژر راتلونکی ده. او له هغه څخه په هیڅ ډول (طریقه) سره خلاصی امکان نه لری. نو د هغی له فکره مه غافل کیږئ!

---

## وَاذْكُرُوا اللّٰهَ فِيْٓ اَيَّامٍ مَّعْدُوْدٰتٍ ؕ

او یادوئ! الله (د تکبیراتو په ویلو سره) په څو ورځو شمیرلیو شویو (د تشریق) کښی

---

**تفسیر:** له ﴿ اَيَّامًا مَّعْدُوْدٰتٍ ﴾ څخه د ذیحجة الحرام یوولسمه، دولسمه، دیارلسمه ورځ مراد ده. چه په دی ورځو کښی خلق له «حج» څخه فارغیږی، او مامور دی چه په «منیٰ» کښی واوسیږی. په دی ورځو کښی د جمرو ویشتل، او له هر لمانځه څخه وروسته د تکبیراتو ویل، اجراء کړئ! او په نورو وختونو کښی هم دلته تکبیر او تهلیل په ډیر محبت سره ووایئ!. او د پاک الله په ذکر کښی کثرت او مداومت وکړئ!.

فَمَنۡ تَعَجَّلَ فِي يَوۡمَيۡنِ فَلَآ إِثۡمَ عَلَيۡهِ وَمَن تَأَخَّرَ فَلَآ إِثۡمَ عَلَيۡهِۖ لِمَنِ ٱتَّقَىٰۗ

نو هر چا چه بیړه (تلوار) وکړه (په تلو کښې له منٰى مکې ته) په دوو ورځو کښې (چه (۱۱) (۱۲) د ذی الحجی دی) نو نشته هیڅ ګناه پر دغه تلوار کوونکی او هر چا چه تاخیر وکړ (او دری ورځې په منٰى کښې پاتې شو) نو نشته هیڅ ګناه په ده باندې دا بیګناهی هغه چا لره ده چه پرهیز ئې کړی وی (له مناهیو څخه)

**تفسیر:** ګناه خو دا ده چه له شرعی ممنوعاتو څخه پرهیز ونه کړئ! او هغه څوک چه له الله تعالىٰ څخه ووېرېږی، او په تیره بیا د «حج» په وخت کښې تقوىٰ او پرهیزګاری هم وکړی نو بیا په دی خبره کښې هیڅ نه ګناهګارېږی، چه په «منٰى» کښې دوه ورځې هستوګنه وکړی، یا دری ورځې پکښې واوسېږی، ځکه چه الله تعالىٰ دا دواړه جائز فرمایلی دی. ولی افضل او بهتر خو په (منٰى) کښې د دری ورځو قیام دی.

وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّكُمۡ إِلَيۡهِ تُحۡشَرُونَ ﴿٢٠٣﴾

او (تل) وېرېږئ! له الله څخه او پوه شئ چه بیشکه تاسی خاص الله ته ورتولېږئ (په قیامت کښې د مکافاتو (جزا او سزا) له پاره)

**تفسیر:** یعنی په «حج» پوری څه خصوصیت نشته بلکه ښایی چه هر سری په هر وخت او هر کار کښې له پاک الله څخه تل ووېرېږی، ځکه چه تاسی تول به له خپلو قبرو څخه پاڅېږئ! او د هغه الله جل جلاله وعم نواله په حضور کښې به تول سره د خپل حساب او کتاب له پاره تولېږئ!. دلته د حج ذکر ختم شو، خو د حج په ضمن کښې د دوو دولو (قسمو) خلقو ذکر هم راغلی ؤ.

(۱). ﴿فَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ﴾ الآیه

(۲). ﴿وَمِنۡهُم مَّن يَقُولُ﴾ الآیه

یعنی مؤمن او کافر اوس د هغه په مناسبت د دریم قسم ذکر هم فرمایی، یعنی د منافق حال بیانوی.

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُعۡجِبُكَ قَوۡلُهُۥ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَيُشۡهِدُ

اللهَ عَلٰى مَا فِىْ قَلْبِهٖ ۙ وَهُوَ اَلَدُّ الْخِصَامِ ۝ وَاِذَا تَوَلّٰى سَعٰى
فِى الْاَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيْهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ ؕ وَاللهُ
لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ ۝ وَاِذَا قِيْلَ لَهُ اتَّقِ اللهَ اَخَذَتْهُ
الْعِزَّةُ بِالْاِثْمِ فَحَسْبُهٗ جَهَنَّمُ ؕ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ ۝

او ځینې له خلقو څخه هغه څوک دی چه په تعجب کښې آچوی تا خبره د ده په (کارو د دی) ژوندون لړ کښې او شاهد کوی دی الله په هغه شي چه په زړه د ده کښې دی حال دا چه دی ډیر سخت دی په جګړه او عداوت کښې او کله چه بیرته وګرځي (له تانه ای محمده!) نو ګرندی ګرځي په ځمکه (د مدینې) کښې دپاره د دی چه فساد وکړی په ځمکه کښې او هلاکوی کښت (فصل) او ساکښان (ذی روح) (په سوځولو او وژلو سره) حال دا چه الله نه خوښوی فساد (او معصیت) او کله چه وویل شي ده ته چه وویریږه له الله نیسي دی غرور (عار او ننګ په کولو د) ګناه نو پس کافي دی ده لره (عذاب د اور) دوزخ او هرومرو(خامخا) بد بستر دی (دا اور د دوزخ)

**تفسیر:** دا حال د منافق دی، چه په ښکاره سره خوشامندی او تملق کوی. او الله تعالیٰ ځانته شاهد ګرځوی، او وایي چه زه رښتین یم! او په زړه کښې می د اسلام محبت دی، خو د جګړې او فساد په وخت کښې د هغه اعمال لهَ دی ویناوو ځنې مخالف وی، او که ئی لاس بر شي، له داړې، غلا، لوټ او تالا ځنې هم خپل مخ نه اړوی. او که له هسې چارو ئی څوک منع کړی، نه منع کیږی، بلکه ضد او مخالفت کوی، او په خپلو بدو چارو کښې ترقي کوی. وایي چه یو منافق چه ډیر فصیح او بلیغ او نوم ئی (اخنس ابن شریق ؤ) کله به چه د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په حضور کښې حاضریده، نو خپل ډیر اخلاص او محبت به ئی د اسلام په نسبت ښکاره کاوه. او د دوی په غیاب کښې به ئی کښتونه (فصلونه) خرابول، او درمندونه به ئی سوځول، او د بودهؤ (څاروو) پښې به ئی پریکولی، نو په دی مناسبت د منافقینو په تقبیح او خرابی کښې دغه پاس آیت نازل شو.

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْرِىْ نَفْسَهُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللهِ ؕ

او ځنې له خلقو څخه هغه څوک دی چه خرڅوی نفس خپل دپاره د طلب د رضا د الله (چه له خپله ځانه او ماله تیریږی).

**تفسیر:** په پخوانی آیت کښې د هغه منافق ذکر ؤ، چه دین ئې د دنیا په بدل کښې له لاسه ایست، دلته د هغه په مقابل کښې د هغه کامل الایمان مخلص مسلمان ذکر راځی چه دنیا، مال او ځان د دین په طلب کښې صرفوی. وایی چه حضرت صهیب رومی غوښتل چه د هجرت په اراده د رسول الله صلی الله علیه وآله وصحبه وسلم حضور ته حاضر شی، په لار کښې د مشرکینو په لاس کښیوت (راګیر شو). صهیب رضی الله تعالیٰ عنه هغوی ته وویل «زه خپل کور او ټول مال تاسو ته په دی شرط سره درکوم، چه ما خوشی کړئ! چه مدینی منوری ته لاړ شم. او له هجرت څخه مې مخه مه نیسئ!» په دی باندی هغوی راضی شول، او صهیب رضی الله تعالیٰ عنه ئې پریښود چه د رسول صلی الله علیه وسلم په حضور مشرف شی، نو دا آیت د مخلصینو په تعریف کښې نازل شو.

وَاللّٰهُ رَءُوْفٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿۲۰۷﴾

او الله ډیر مهربان دی پر بندګانو باندی (چه د ده په توفیق له ځانه او ماله تیریږی.)

**تفسیر:** دا د الله تعالیٰ څومره لوی رحمت دی، چه خپلو بندګانو ته ئې توفیق ورکړی دی، چه د هغه د خوښی او رضا غوښتلو په لاره کښې خپل ځان او مال قربانوی، حال دا چه د دوی د هر یوه مال او ځان د الله تعالیٰ ملکیت دی. خو سره له هغه هم د هغه په بدل کښې هغوی ته (جنت) ورکوی، دا یوازی د ده فضل او احسان دی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ادْخُلُوْا فِي السِّلْمِ كَآفَّةً ۪

ای هغو کسانو چه ایمان ئې راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو) ننوځئ! په اسلام کښې (د هغه له ټولو شرایطو سره) ټول.

**تفسیر:** په ړومبی آیت کښې ئې د مخلص مؤمن مدح وفرمایله، چه له هغه څخه د نفاق ابطال منظور ؤ. اوس فرمایی چه تاسو په کامل ډول (طریقه) سره اسلام ومنئ! یعنی په ظاهر او باطن، او په عقیده او عمل کښې یواځې د اسلام د احکامو متابعت وکړئ!، او نه چه په خپل سر او

عقل. يا د بل چا په خوله کوم حکم ومنئ!. يا کوم کار وکړی!. نو له دی څخه د «بدعت» قلع او قمع او له بیخه ایستل مقصود دی. ځکه چه «بدعت» په حقیقت کښی هم دا شی دی، چه د بل چا کومه عقیده یا کوم عمل چه ښه او مستحسن وګڼلی (وګنړلی) شی هغه له خپل لوری په دین کښی داخل کړی شی، مثلاً لمونځ او روژه چه ښه د عبادتونو دی، که بی له شرعی حکمه ئی څوک له خپله ځانه مقرر کړی بدعت دی، لکه د اختر په ورځ په عیدګاه کښی په نفلونو باندی امر ورکول یا د اخترونو په ورځو کښی د روژی نیول د دغو آیتونو خلاصه داسی شوه «په اخلاص سره ایمان راوړئ! او له بدعتونو څخه لری ګرځئ!». له یهودانو څخنی څو تنه مشران په اسلام مشرف شوی وو، دوی د اسلام له احکامو سره د «توریت» د احکامو رعایت کول هم غوښتل. مثلاً د هفتی (خالی) ورځ به ئی لویه ورځ ګڼله، او د اوښانو غوښی او شودی به ئی حرامی بللی، او «توریت» به ئی لوست، نو په دی مناسبت دا آیت نازل شو، چه په هغه سره ئی د بدعت انسداد په کامل ډول (طریقه) سره وفرمایه.

وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ۚ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿۲۰۸﴾

او مه کوئ پیروی د (اثر د) قدمو د شیطان! بیشکه دا (شیطان) تاسی لره دښمن دی ښکاره

**تفسیر:** یعنی په خپله وسوسه سره بی اصله شیان ستاسو په زړونو کښی اچوی، او په دین کښی بدعتونه شاملوی، او دین مو خرابوی، او تاسی هم هغه غوره کوئ.

فَإِن زَلَلْتُم مِّن بَعْدِ مَا جَاءَتْكُمُ الْبَيِّنٰتُ فَاعْلَمُوا أَنَّ اللّٰهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿۲۰۹﴾

بیا که وښوئیدئ تاسی وروسته له هغه چه راغلی دی تاسی ته ښکاره معجزی نو پوهیږئ چه بیشکه الله ډیر غالب (په انفاذ د احکامو) لوی حکمت والا دی (چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی).

**تفسیر:** یعنی د محمدی شریعت د صافو احکامو له ښکاره کیدلو څخه وروسته که څوک په هغه باندی بیا هم قائم پاتی نشی، بلکه په بل لوری سترګی ونښلوی. نو ښه وپوهیږئ چه الله تعالیٰ پر تولو باندی ډیر غالب دی، هر چاته چه اراده وکړی سزا ورکوی. هیڅوک د هغه د عذاب مخه نشی نیولی، لوی حکمت والا دی. هر څه چه کوی له حق او مصلحت سره سم دی. که عذاب

ورکوی، یا که په عذاب او سزا ورکولو کښې څه ډیل او ځنډ (ایسارتیا) کوی، یعنی نه چاته ژر سزا ورکوی او نه ئې د هیچا هیڅ یو شی هیریږی، او نه له انصاف او عدالت (نیاو) څخه تیریږی. او نه کوم نامناسب امر صادروی.

هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن يَأْتِيَهُمُ ٱللَّهُ فِى ظُلَلٍ مِّنَ ٱلْغَمَامِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ وَقُضِىَ ٱلْأَمْرُ ۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرْجَعُ ٱلْأُمُورُ ﴿٢١٠﴾

انتظار نه کوی دوی مگر دی ته چه راشی دوی ته (عذاب د) الله په سیورو (سورو) کښې له وریځو څخه او (راشی دوی ته) پرښتې (د عذاب) او خلاص شی کار (د اهلاک د دوی) او (خاص) الله ته بیرته گرځول کیږی تول کارونه (په قیامت کښې د مجازاتو دپاره)

**تفسير:** یعنی هغه کسان چه د حق تعالیٰ له دی صافو او ښکاره ؤ احکامو ځنې مخالف کار کوی او له خپل کاره تګه نه اوړی، او سمی صافی لاری ته نه راځی، نو دوی په پاک قرآن او رسول معظم صلی الله علیه وسلم باندی یقین او باور نه لری اوس گواکی دوی دی خبری ته سترگی نیولی دی، چه **(العیاذ بالله)** په خپله الله تعالیٰ او د هغه پرښتې پر دوی باندی راشی، او د جزا او سزا کومه واقعه چه په «قیامت» کښې راتلونکی ده، هغه په هم دا نن ورځ پای (آخر) ته ورسیږی، او فیصله شی. خو بالاخره د تولو امورو حساب او کتاب، ثواب او عقاب او د ورتګ ځای همغه رب الارباب دی، او د تولو مرجع او مآب همغه عزیز الوهاب دی، او تول احکام د همغه ملک القادر له حضوره صادریږی. او په دی کښې هیڅ یو د تردد او ویری کومه خبره نشته.

سَلْ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ كَمْ ءَاتَيْنَٰهُم مِّنْ ءَايَةٍۭ بَيِّنَةٍ ۗ

پوښتنه وکړه (ای محمده!) له بنی اسرائیلو څخه چه څومره ورکړی دی مونږ دوی ته له معجزاتو ښکارندو څخه؟

**تفسير:** له دی نه ئې پخوا فرمایلی ؤ چه د حق تعالیٰ د صاف حکم له ښکاره کیدلو څخه وروسته، له هغه ځنې مخالفت، د عذاب موجب دی، اوس د هغه په تائید کښې فرمایی چه په خپله له بنی اسرائیلو اولاده د یعقوب ځنې پوښتنه وکړئ چه مونږ دوی ته څومره ښکاره آیات او صریح او واضح احکام رالیږلی دی؟ کله چه دوی له هغو ځنې منحرف او چپ شول، نو زمونږ په

عذابو اخته شول. او داسې نه دي چه مونږ پخوا له نافرمانۍ څخه هغوی په عذاب اخته کړي وو.

وَمَنْ يُّبَدِّلْ نِعْمَةَ اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُ فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۲۱۱﴾

او هر څوک چه بدل کړي نعمت د الله (په ناشکرۍ سره) وروسته له هغه چه راغلی ؤ دا (نعمت) ده ته نو بیشکه الله سخت دی عذاب (د ده) (په دنیا کښې په قتل، نفی (جلا وطن)، اسارت (قید) او په عقبا کښې په عقوبت).

**تفسیر:** یعنی دا قاعده خو خامخا محققه ده، هر هغه څوک چه د پاک الله له احکامو او هدایاتو څخه مخالفت کوی، یا ئې آیات بدلوی، او د هغو د احساناتو او انعاماتو کفران کوی، نو بیا د هغه عذاب ډیر سخت دی، په داسې ډول (طریقه) چه په دنیا کښې دی ووژل شي، یا دی کور او مال لوټ کړ شي، یا دی جزیه پرې کیښوده شي، چه تل خوار او ذلیل واوسی، په عقبا کښې همیشه تل ترتله په دوزخ کښې پاتې کیږي.

**فائده:** له نعمت رسیدلو څخه دا مطلب دی چه په هغه باندې ئې علم حاصل شي یا بې له تکلفه ئې په لاس ورشي.

زُيِّنَ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا وَيَسْخَرُوْنَ مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۘ

ښائسته کړې شوی دی هغو کسانو لره چه کافران شوی دی دغه ژوندون لږ خسیس او مسخرې کوی دوی پر هغو کسانو چه ایمان ئې راوړی دی (په سبب د فقر د دوی او غنا خپلې)

**تفسیر:** یعنی کافران چه د الله تعالیٰ له صافو احکامو څنې په ښکاره ډول (طریقه) سره مخالفت کوی. او د هغه د انبیاؤ له هغو ښکاره ؤ احکامو څخه مخ اړوی. چه پاس یاد شول د هغه وجه دا ده چه د هغوی په نظر کښې د دنیا ښیګنو (فائدو) او ښه والی داسې کلک ځای نیولی دی، چه د هغه په مقابل کښې د آخرت زحمت او راحت ته هیڅ فکر نه کوی، او هیڅ خیال نه ورته لری، بلکه پر هغو مسلمانانو باندې چه د آخرت په ذکر او فکر کښې مشغول دی، او د پاک الله د حکمو په تعمیل کښې مصروف دی، خاندی او ذلیل ئې ګڼی، نو هسې احمق النفس بندګان په څرنګه د الله تعالیٰ د احکامو تعمیل وکړی هر کله چه به د مشرکانو مشران پر حضرت بلال رضی الله تعالیٰ عنه یا عمار رضی الله تعالیٰ عنه یا صهیب رضی الله تعالیٰ عنه یا د

مهاجرینو پر نورو فقراؤ رضوان الله تعالیٰ علیهم اجمعین باندی تیریدل، یا به ئی دوی لیدل، نو پر دوی باندی به ئی تمسخر کاوه، او خندل به یی، او ویل به ئی چه «دغه ناپوهانو ته وگورئ! چه د آخرت په خیال د دنیا تکالیف، او مصائب پر ځانو باندی اخلی، او محمد صلی الله علیه وسلم ته وگورئ! چه د دغو فقیرانو په ملگرتوب غواړی چه د عربو پر مشرانو بری ومومی، نو ځکه دوی تل د غلبی په فکر کښی لگیا، او د دنیا د اصلاح په چرت کښی مشغولتیا لری!.»

وَالَّذِينَ اتَّقَوْا فَوْقَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۗ وَاللَّهُ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٢١٢﴾

او هغه کسان چه ئی ساتلی دی (ځانونه له شرکه) د پاسه د دوی (یعنی کفارو) به وی په ورځی د قیامت کښی او الله روزی ورکوی هغه چا لره چه اراده وکړی بی له حسابه (ډیره پراخه)

**تفسیر:** الله تعالیٰ د هغوی په ځواب کښی ارشاد فرمایی چه دا د دوی ناپوهی او ناقص خیال دی چه په دنیا پسی لیونیان دی، او نه پوهیږی چه هم دا فقیران او غریبان به د قیامت په ورځ له دوی ځنی اعلیٰ او لوړ وی او الله تعالیٰ په دنیا او عقبا کښی هغه چاته چه اراده وفرمایی بیشماره رزق او روزی ورکوی. لکه چه هم دی فقیرانو ته ئی چه کافرانو به پر دوی باندی خندل، د بنی قریظه او بنی نضیر اموال او جایداد وربه برخه کړل. او همدوی ئی د (روم) او د (پارس) پر شهنشاهی باندی مسلط کړل.

كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً فَبَعَثَ اللَّهُ النَّبِيِّينَ مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ
وَأَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيمَا اخْتَلَفُوا
فِيهِ ۚ وَمَا اخْتَلَفَ فِيهِ إِلَّا الَّذِينَ أُوتُوهُ مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ
الْبَيِّنَاتُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ ۖ فَهَدَى اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا لِمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ مِنَ

الْحَقِّ بِإِذْنِهِۦ ۗ وَاللَّهُ يَهْدِي مَن يَشَاءُ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٢١٣﴾

وو تول خلق (په ابتدا کښې) تولې يو په يوه حق دين (بيا څينې کافران او څينې مسلمانان پاتې شول) پس وليږل الله انبياء زيرې ورکوونکي (مؤمنانو ته په نعيم سره) او ويروونکي (کافرانو ته په جحيم سره) او راوئې ليږه له دوی سره کتاب (بيانونکی د دين) په حقه سره دپاره د دی چه حکم وکړی (الله يا نبی يا کتاب) په مينځ د خلقو کښې په هغه کار کښې چه اختلاف کړی دی دوی په هغه کښې او اختلاف نه دی کړی په هغه (حق يا کتاب يا اسلام) کښې مگر هغه کسانو چه ورکړی شوی ؤ دوی لره کتاب (اختلاف چه ئې کړی ؤ) د وروسته له هغه چه راغلی ؤ دوی ته دليلونه ښکاره په سبب د کينې په منځ د دوی کښې پس سمه صافه لاره وښووله الله هغو کسانو ته چه ايمان ئې راوړی دی هغه شی ته چه جګړه کړی وه دوی په هغه کښې (چه عبارت دی) له حقه په اذن (حکم) خپل سره او الله هدايت کوی هغه چاته چه اراده (يی د هدايت) وکړی طرف د لاری سمی ته.

**تفسير:** د حضرت آدم عليه السلام له وخته راهيسی هم دا يو حق دين پاتی دی، وروسته له هغه څخه تر يوی مودی پوری هغه دين پاتی ؤ، او بيا خلقو په هغه کښی اختلاف وکړ. نو پاک الله د هغو د اختلافاتو د لری کولو لپاره خپل انبياء وليږل چه د ايمان او اطاعت اهل ته ئی د ثوابو زيری او بشارت ورکاوه، او د کفر او معصيت اهل ئی له عذابو څخه ډراوه، او له دوی سره ئی يو حق کتاب هم ورليږلی ؤ، چه په دی د خلقو اختلاف او نزاع لری شی او حق دين د دوی له اختلافاتو څخه محفوظ او قائم پاتی شی. او د الله تعالیٰ په احکامو کښی همغو کسانو اختلاف واچاوه، چه هغوی ته کتاب ورکړی شوی ؤ، لکه يهودانو او نصرانيانو چه په (توريٰت) او (انجيل) کښی اختلاف او تحريف وکاوه، او د انزاع ئی هم په ناپوهی سره نه کوله. بلکه ښه پری پوهيدل، او يواځی د دنيوی اغراضو، ضد او حسد له امله (وجی) ئی داسی کول. نو الله تعالیٰ په خپل فضل او کرم سره د ايمان اهل ته د حق او هدايت طريقه وروښودله، او د گمراهانو له اختلافاتو څخه ئی نجات ورکړ. لکه چه محمدی صلی الله عليه وسلم امت ته ئی د هری عقيدی او عمل په نسبت د حق امر تعليم وفرمايه. او د يهودانو او نصرانيانو د اختلافاتو او افراط او تفريط څخه ئی دوی محفوظ وساتل.

**فائده:** له دی آيت څخه دوه خبری معلوميږی

(۱): دا چه الله تعالیٰ هغه رسولان او متعدد کتابونه چه راليږلی ئی دی، د دی له پاره نه دی چه د هری فرقی له پاره بيله لاره وښيی، بلکه تولو لره الله تعالیٰ اصلاً همغه يوه لاره مقرره کړی ده کله چه دوی له هغی سمی لاری څخه وښوئيدل نو الله تعالیٰ دوی ته بيا رسول صلی الله عليه وسلم

او کتاب ورولیږل، چه سم د هغو له احکامو سره تګ وکړي. کله چه وروسته له هغه، هغوی بیا ګمراهان شول. بیا بل نبي علیه السلام او بل کتاب الله دوی ته ور واستاوه شو چه دوی په یوه لاره باندی قائم پاتي شي. د دی خبري مثال داسي دی لکه چه روغتیا یوه ده او ناروغي ګاني بي شماره دی کله چه یوه ناروغي پیدا شوه نو سم د هغه له علاجه سره ئی یوه دوا او پرهیز وفرمایه څه وخت چه بل کوم مرض پیدا شو نو له هغه سره ئی بله دوا او پرهیز وتاکه (مقرر کړ) اوس ئی په آخر کښي هسي یوه طریقه او قاعده وفرمایله، چه په هغي سره له ټولو ناروغیو څخني نجات ممکن دی. او د ټولو په بدل کفایت کوي. او هغه د اسلام پاکه طریقه ده. چه د هغي له پاره آخرالزمان رسول صلی الله علیه وآله وصحبه وسلم او دا عظیم الشان فرقان لیږلی شوی دی.

(۲): دا خبره معلومیږي چه د الله تعالیٰ هم دا سنت جاري دی، چه بدانو د رسولانو په خلاف په هر وخت او هره زمانه کښي کار کاوه، او د هر آسماني کتاب په نسبت به ئی اختلاف درلود (لرلو). او د حق او حقانیت په نسبت به ئی تل جنګ او جګړي کولي. او په هم دی کښي به بوخت (مشغول) او لګیا وو. نو اوس نه ښایي چه د ایمان اهل د کافرانو له بدسلوکي او فساد څخه زړه تنګي او خپه شي.

---

أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُمْ مَثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ مَسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ وَزُلْزِلُوا حَتَّىٰ يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ مَتَىٰ نَصْرُ اللَّهِ ۗ أَلَا إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ ﴿٢١٤﴾

---

بلکه ایا ګمان کوئ تاسی (ای مؤمنانو) چه ننه به وځئ تاسو جنت ته حال دا چه راغلي به نه وي په تاسی باندی په مثل (د سختیو) د هغو کسانو چه تیر شوی دی پخوا له تاسی نه چه رسیدلي وه دوی ته سختي (لکه فقر او مرض) او رنځ او ګرځول شوي وو دوی (په سختیو سره) تر هغه پوري چه ویل به (هم) رسول او (هم) هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی وو سره له ده چه کله به وي نصرت د الله؟ خبردار شئ! واورئ! چه بیشکه نصرت د الله نږدی دی (مؤمنانو ته).

---

**تفسیر:** دا پخوا له دی نه ذکر شو، چه د دښمنانو له لاسه انبیاء علیهم السلام او د هغو امتیانو

ته تل ربړونه (تکلیفونه) او ایذاوی رسیدلی. نو اوس مسلمانانو ته ارشاد وشو چه آیا تاسی هیله (امید) لرئ چه په جنت کښې به داخلیږئ؟ حال دا چه هغه ضررونه او ربړونه (تکلیفونه) چه پخوانیو امتو ته ور وړاندی شوی وو، هغه به ستاسی په مخ کښې نه در وړاندی کیږی؟. هو! پخوانیو امتو ته فقر، فاقه، مرض او د کفارو ویره دومره زیاته ور وړاندی کیده، چه د مجبوری او عاجزی په حالت کښې به نبی او د ده امتیانو الله تعالیٰ جل جلاله ته داسی دعوی او عرضونه کول «ای الها! ستا هغه اعانت او امداد چه وعده ئی کړی شوی ده، کله به راورسیږی؟» یعنی د بشریت په مقتضاء سره د پریشانی په وخت کښې به د مأیوسی په ډول (طریقه) سره داسی خبری د هغوی له خولو څخه وتلی. لکه چه زمونږ بلخی مولوی حضرت مولنا جلال الدین رحمة الله علیه په مثنوی کښې هم فرمایی

چه بدانو اتفاق وکړ انکار ته

اندیښمن پیغمبران شول دی کار ته

لکه چه پاس وویل شول داسی اوضاع به د اضطرار په وخت کښې د انسانیت په تقاضا سره واقع کیدله، چه له هغی څخنی په دوی د شک او د شبهی هیڅ کوم الزام نه راته، او کله چه به خبره تر دی حده پوری رسیده نو د الهی جل جلاله رحمت به متوجه شو، او ارشاد به وشو چه «هوښیار شئ! چه د الله تعالیٰ مدد در ورسید، او مه ویریږئ!». نو ای مسلمانانو! تاسی هم د دنیوی تکالیفو او د دښمنانو له غلبی څخنی مه ویریږئ! صبر او تحمل وکړئ! او ثابت قدم واوسئ!.

---

## يَسْـَٔلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ ط

**پوښتنه کوی له تانه (ای محمده! مؤمنان) چه څه شی صرف کړی دوی (په لاره د الله کښې؟)**

---

**تفسیر:** په پخوانیو آیاتو کښې په کلی ډول (طریقه) دا مضمون په ډیر تاکید سره بیان شو چه کفر او نفاق پریږدئ! او په اسلام کښې په پوره ډول (طریقه) سره ننوځئ! او د پاک الله جل جلاله د حکم په مقابل کښې بل د هیڅا خبری ته غوږ مه ږدئ! او د الله تعالیٰ په خوښی کښې خپل ځان او مال جار (قربان) کړئ! او هر راز (قسم) شدت او تکلیف پر ځان باندی واخلئ! له دی ځای نه وروسته د دی کلیی په نسبت د جزئیاتو تفصیل بیانیږی، چه د ځان او د مال او نورو معاملاتو په نسبت لکه نکاح، طلاق او نورو پوری تعلق لری چه د دی کلیی تحقیق او تاکید په ښه ډول (طریقه) سره په زړه کښې کینی.

قُلْ مَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ؕ وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ ﴿٢١٥﴾

ووايه (اى محمده !) هر شي (لږ يا ډير) چه صرفوئ (خرچ كوئ) تاسي له مالو څخه نو (يي صرف كړئ) له پاره د مور او پلار او (له پاره د) خپلوانو او (له پاره د) يتيمانو (پلار مړيو) او مسكينانو (چه څه شي نه لري) او (له پاره د) مسافرانو او هر هغه څه چه (يي) كوئ تاسي له نيک كاره نو بيشكه چه الله په هغه باندي (لكه په نورو اشياؤ) ښه عالم دى.

**تفسير:** ځينى اصحاب چه مالداران وو، له رسول اكرم صلى الله عليه وآله صحبه وسلم څخنى ئى پوښتنه وكړه چه له مال څخنى مونږ څه صرف كړو؟ او په څه شي باندى ئى ولګوو؟ نو ځكه داسي حكم وشو چه لږ يا ډير هر څه چه د الله تعالىٰ له پاره صرفوئ (خرچ كوئ)، هغه د مور او پلار او اقاربو او يتيمانو او محتاجانو او مسافرانو له پاره دى. يعنى كه د ثواب د حصول لپاره ئى ښندل او صرفول غواړئ نو هغومره مو چه زړه غواړى صرف ئى كړئ! د هغه له پاره څه تعيين او تحديد نشته. هو! دا ضرورى ده چه هغه په همغو مواقعو باندى صرف كړ شي چه مونږ ئى درښيو!.

كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ

فرض كړى شوى دى پر تاسي باندى جنګ كول (له كفارو سره)

**تفسير:** يعنى د دين له دښمنانو سره جنګيدل فرض كړى شوى دى.

**فائده:** تر هغه وخت پورى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم په مكى شريفى كښى اوسيدل، په جنګ سره مجاز نه ؤ، كله چه ئى مدينى منورى ته هجرت وفرمايه، نو دوى ته د مقاتلى اجازه وشوه، مګر يوائځى د هغو كفارو په مقابل كښى چه له مسلمانانو سره جنګيږى، وروسته تر دى له تولو كفارو سره د مقاتلى اجازه وشوه او «جهاد» فرض شو، او كه د دين دښمنان پر مسلمانانو باندى بريد او تعرض وكړى، نو پر مسلمانانو باندى «جهاد» فرض عين ګرځى، كه نه فرض كفايي دى، ولى په دى شرط سره چه د «جهاد» هغه تول شرطونه وموندلى شى، چه په فقهيه ؤ كتابو كښى راغلى دى. هو! هغه خلق چه له هغو سره مسلمانان مصالحه وكړى؛ يا له دوى سره معاهده ولرى، يا كفار د مسلمانانو تر حفاظت او امن او ځيرمى (ضمانت) لاندى راشى، نو له هسى كفارو سره جنګيدل، يا د دوى په مقابله كښى د دوى له مخالفينو سره

مرستی (مدد) کول، مسلمانانو سره هیڅکله روا نه دی.

## وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ

حال دا چه دغه (جنګ) بد ښکاری تاسی ته،

**تفسیر:** د بد ښکاره ليدلو مطلب دا دی چه پر نفس باندی سخت او درونډ معلوميږی دا نه چه درد او د انکار وړ (لائق) په نظر راځی، او له حکمت او مصلحت څخه مخالف وربښکاری او د تنفر او خپګان موجب وی، نو په دومره خبره باندی پر هيڅا باندی هيڅ الزام نشته ځکه چه انسانان بالطبع له ژوندانه سره ډير عشق او مينه لری، او بل هيڅ شی له ژوندانه سره نه برابروی نو ځکه جنګ او مقاتله انسانانو ته فطرتاً درونډ او سخت کار ښکاری.

## وَعَسَىٰ أَن تَكْرَهُوا شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ وَعَسَىٰ أَن تُحِبُّوا شَيْئًا وَهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ۗ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٢١٦﴾

او ښايی چه بد ګڼئ تاسی يو شی حال دا چه هغه ډير بهتر وی تاسی لره، او ښايی چه ښه وګڼئ تاسی يو شی حال دا چه هغه به ډير بد وی تاسی ته او الله عالم دی (په خير ستاسی) او تاسی نه پوهيږئ (په خير خپل)

**تفسیر:** يعنی دا خبره ضروری نه ده، چه هر هغه شی چه تاسی ئی خپل ځان ته نافع يا مضر وګڼئ هغه به رښتيا سره هم ستاسی په حق کښی همغسی وی. بلکه کيدی شی، چه تاسی يو شی د خپل ځان له پاره بد وګڼئ، او هغه به واقع کښی مفيد وی. يا کوم شی تاسی ښه وګڼئ او هغه به حقيقت کښی مضر وی. دا چه تاسی وايئ «په جهاد کښی د ځان او مال د تولو شيانو نقصان دی، او د «جهاد» په پريښودلو او ترک کښی، د تولو حفاظت دی» خوشی يو چتی او فضول خيال دی. تاسی نه پوهيږئ چه په «جهاد» کښی د دنيا او آخرت لوی لوی منافع شته. او د «جهاد» په ترک کښی ډير ډير نقصانات دی، ستاسی په ګته او تاوان، نفع او نقصان باندی يواځی الله تعالیٰ جلت کلمته ډير ښه پوهيږی، او تاسی نه پری پوهيږئ. نو ځکه هر هغه حکم چه الله تعالیٰ ئی پر تاسی باندی کوی، هغه خامخا حق دی، او تاسو ئی د زړه له کومی ومنئ! او په هسی چتی (بيکاره) خيالاتو پسی مه ګرځئ!.

## يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلشَّهۡرِ ٱلۡحَرَامِ قِتَالٖ فِيهِۖ

پوښتنه کوی خلق له تانه (ای محمده!) له میاشتی حرامی څخه له جنګ کولو په دی کښې (چه روا دی که ناروا؟)

**تفسیر:** حضرت فخر عالم صلی الله علیه وآله وصحبه وسلم د مسلمانانو یو تولی د کفارو د مقابلی له پاره ولیږه. دوی کفار ووژل، او مالونه ئی په غنیمت سره راوړل، مسلمانان ښه پوهیدل چه هغه د «جهاد» وخت د جمادی الاخری وروستنی عشره، او د رجب المرجب اوله شپه ده کافرانو د دی په نسبت په طعنی ویلو باندی پیل (شروع) وکړ محمد صلی الله علیه وسلم حرامه میاشته حلاله کړه، او خپلو امتیانو ته ئی حکم ورکړی دی چه په اشهرالحرم کښې دی هم له خلقو سره جګړی وکړی، او د دوی مالونه دی په الجه (غنیمت) او لوټ یوسی په دی ملحوظ مسلمانان د رسول اکرم صلی الله علیه وآله وصبحه وسلم په حضور کښې حاضر، او پوښتنه ئی وکړه، چه «اوس څه حکم دی؟ له موږ څخنی خو اشتباهاً دا کار صادر شوی دی!» په دی تقریب دا آیت نازل شو

## قُلۡ قِتَالٞ فِيهِ كَبِيرٞۖ

ووایه (ای محمده! دغو سائلینو ته) چه جنګ کول په دی (اشهرالحرم) کښې (عمداً) لویه ګناه ده.

**تفسیر:** یعنی په حرامه میاشته کښې جنګیدل، خو بیشکه د ګناه خبره ده. ولی لویو اصحابو رضی الله عنهم سم له خپلو پوهنو سره په جمادی الثانی کښې «جهاد» کړی ؤ، او په حرامه میاشته کښې یی چه رجب المرحب دی نه ؤ کړی. نو د دی له امله (وجی) د عفوی مستحق دی، او په دوی باندی هیڅ یو الزام نه اوړی. نو په هغوی داسی الزام لګول، بی انصافی ده.

## وَصَدٌّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَكُفۡرُۢ بِهِۦ وَٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ وَإِخۡرَاجُ أَهۡلِهِۦ مِنۡهُ أَكۡبَرُ عِندَ ٱللَّهِۚ

او منع کول له لاری (دین) د الله څخه او کافر کیدل په الله او (منع کول له) مسجد حرام نه او ایستل د اهل د مسجد حرام له ده څخه (ګناه) ډیره لویه ده په نزد د الله (له قتاله په اشهرالحرم کښې)

**تفسير:** يعنى د اسلام څخه د مسلمانانو ممانعت، او په خپله د اسلامي ديانت څخه بغاوت او د بيت الله شريف د زيارت څخه د خلقو مخ نيول، او د مكى معظمى اوسيدونكى د باندى شړل دا خبرى د اشهرالحرم له مقاتلى څخه هم لويى گناوى دى. او حال دا چه كفار پرله پسى هسى كارونه كوى. لنده ئى دا چه «په حرامه مياشته كښى بى سببه او ناحقه جنگيدل، خو بيشكه لويه گناه ده. مگر هغه خلق چه په حرم شريف كښى كفر خپروى (خوروى). او لوى لوى فسادونه پكښى كوى. او په اشهرالحرم كښى هم د مسلمانانو د ربړولو (آزارۇلو) څخه لاس نه آخلى نو له هسى كفارو سره د جنگيدلو ممانعت نشته. برسيره په دى كله چه پخپله مشركان په داسى بدو امورو كښى لگيا دى، نو په داسى يوه وړوكى گناه باندى چه هغه هم د لاعلمى له امله (وجى) واقع شوى ده، پر مسلمانانو باندى د داسى ظالمانو او متجاوزو (حد نه تيريدونكو) كافرانو له لورى طعنى وهل، د شرم او تعجب خبره ده.»

وَالْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ ۗ

او فتنه (له دين څخه د خلقو ايستل) ديره لويه (گناه) ده له جنگ څخه.

**تفسير:** يعنى په دين كښى فتنه او فساد اچول، چه خلق له دين څخه وگرځى، له هغه قتل نه چه له مسلمانانو څخه سهواً په حرامه مياشت كښى واقع شوى دى، په ځو درجو بد دى. مشركانو داسى عادت درلود (لرلو)، چه د اسلامى دين په خبرو كښى ئى راز راز (قسم قسم) شبهى او خدشى پيدا كولى، خو نور خلق په شبهو كښى ولويږى، او د اسلام دين ونه منى. لكه چه په هم دى پيښه كښى چه د ځينو مسلمانانو له لورى سهواً په اشهرالحرم كښى واقع شوى وه، مشركانو ديرى خبرى وكړى، او له دى ويناؤ ځنى د هغوى مقصد دا ؤ چه نور خلق د اسلام له قبلولو ځنى متنفر كړى. نو ئى لنده داسى شوه «په هغه قتل باندى چه د مسلمانانو له لاسه صادر شو، مشركان پيغورونه وركوى چه خلق د حق دين له لارى واړوى، حال دا چه د دوى فتنه او له حق دين ځنى لغزول (خويول) له قتل څخه په ځو درجو مذموم او شنيع دى».

وَلَا يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ عَن دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُوا ۚ

او هميشه به وى دوى (يعنى كافران) چه جنگ به كوى دوى له تاسى سره تر هغه پورى چه بيرته وگرځوى دوى تاسى له دينه ستاسى كه ئى لاس ورسيږى. (او موقع ومومى).

**تفسیر:** یعنی تر څو چه تاسی په حق دین باندی قائم اوسیږئ، دا مشرکان په هیڅ یوه حالت او په هیڅ یوه موقع کښی، ستاسی له مقاتلی او مخالفت څخه لاس نه اخلی. اګر که د مکی معظمی په حرم شریف او اشهرالحرم کښی هم وی، لکه چه د حدیبیی په عمره کښی ئی هم داسی وکړل چه کافرانو نه د مکی شریفی حرمت وساته او نه ئی د حرامو میاشتی څه لحاظ وکړ. او بی سببه ئی یوازی د بغض او عناد له امله (وجی) قتل او جدال ته ملاوی وتړلی. او مسلمانان ئی مکی شریفی ته له ورتګ څخه ستانه کړل (منع کړل). او پری ئی نه ښودل چه عمره ادا کړی. بیا نو د داسی معاندینو طعنی او بد ویلو ته نه ښایی چه څه اهمیت ورکړ شی او نه ښایی چه له هغوی سره په اشهرالحرم کښی له مقاتلی کولو څخه ډډه ( څنګ ) وشی.

---

وَمَنْ يَّرْتَدِدْ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَاُولٰٓئِكَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۚ وَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۲۱۷﴾

---

او هر څوک چه ګرځی له تاسی نه له دینه خپله پس مړ شی حال دا چه دی کافر وی نو دغه کسان ضایع شوی دی (تیر) عملونه د دوی په دنیا او آخرت کښی او دغه کسان صاحبان د اور (د دوزخ) دی. هم دوی به په دی (اور) کښی تل (همیشه)وی.

---

**تفسیر:** یعنی له اسلامی دین څخه غاړه غړول او په کفر باندی ترآخره پوری ټینګ پاتی کیدل. داسی یوه سخته بلا ده چه د ګرد (ټول) عمر نیکی له منځه وړی! په دنیا کښی د هغوی مال او ځان محفوظ نه پاتی کیږی، نکاح ئی فسخ کیږی. له میراث څخنی بی برخی پاتی کیږی. هو! که بیا اسلام ومنی، نو یوازی د هغو نیکو عملونو جزا پوره او کامله ورکول کیږی چه له اسلام څخه وروسته ئی کړی وی.

---

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۙ اُولٰٓئِكَ يَرْجُوْنَ رَحْمَتَ اللّٰهِ ۗ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۱۸﴾

---

بیشکه هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او هغه کسان چه هجرت ئی کړی

دی او جهاد ئی کړی دی په لاره (دین) د پاک الله کښې دغه کسان امید لری دوی د رحمت (مهربانی) د الله او الله ښه مغفرت کوونکی (د خطیاتو) پوره رحم لرونکی دی (د اجر او ثواب په زیاتوالی سره)

---

**تفسیر:** له ړومبنی آیت څخه پورتنیو اصحابانو ته دا خبره معلومه شوه چه پر مونږ باندی په دی باره کښې هیڅ مؤاخذه نشته. مگر په دی تردد کښې پاتی ؤ چه آیا مونږ ته د هغه «جهاد» چه مونږ کړی دی ثواب رارسیږی که نه؟ نو دا آیت نازل شو هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او هجرت ئی کړی دی، او د الله تعالیٰ له پاره بی د کوم شخصی غرض څخه ئی د هغه له دښمنانو سره «جهاد» کړی دی، نو دوی بیشکه د الله تعالیٰ د رحمت امیدوار، او د هغه مستحق دی، او پاک الله د خپلو بندګانو خطاوی بخښی، او پر دوی باندی انعام کوونکی دی نو الله تعالیٰ به هسی مطیعان او حکم منونکی بندګان نه محروموی.

---

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ

---

پوښتنه کوی دوی له تانه (ای محمده!) (له حکمه د څښلو). د شرابو او (له کولو د) قمار نه.

---

**تفسیر:** د شرابو او قمارو (جواری) په نسبت څو آیتونه نازل شوی دی، او په هر یوه کښې د هغو خرابی راښکاره شوی ده، آخر ئی د (المائدة) په (۹۰) آیت (۱۲) رکوع کښې په ښکاره ډول (طریقه) سره ممانعت وکړ شو. نو ټول هغه شیان چه نشه راوړونکی دی له یوه مخه حرام دی او هغه شرطونه چه په کوم شی باندی ترل کیږی او ګټل او بایلل پکښې وی حرام دی او یو طرفه شرط ترل حرام نه دی.

---

قُلْ فِيْهِمَآ اِثْمٌ كَبِيْرٌ وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَاِثْمُهُمَآ اَكْبَرُ مِنْ نَّفْعِهِمَا

---

ووایه (ای محمده! دوی ته) په دی دواړو کښې ګناه لویه ده او ګټی دی له پاره د خلقو او ګناه د دی دواړو ډیره لویه ده له ګټی د دی دواړو نه.

---

**تفسیر:** د شرابو له څښلو څخه هغه عقل چه انسان له ټولو بدو امورو څخه ځان پری ژغوری (ساتی)، زائل کیږی. او سری د مامور به پریښولو او د ممنوع عنه کولو ته باعث کوی چه جنګ، قتل او نوری خرابی تری پیدا کیږی او راز راز (قسم قسم) هسی روحانی او جسمانی ناروغی ورځنی زیږی چه ډیر ځلی د هلاکت موجب ګرځی او په قمار کښې د حرام مال خوړل،

غلا کول او د مال او عیال تضییع او یو له بل سره دښمني مینځ ته راځي، او راز راز (قسم قسم) ظاهري او باطني مفاسد تري پيدا کیږي. هو! په دوی کښې څه سرسري ګټې هم شته. مثلاً د شرابو له څښلو څخه موقتاً خوند، لذت، خوښي او سرور ورحاصلیږي. او له قمار وهلو ځني بي له مشقته ویړیا مال او شته په لاس ورځي.

وَيَسْـَٔلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ ۖ قُلِ ٱلْعَفْوَ ۗ

او پوښتنه کوي دوی (ای محمده! له تا ځني) چه څومره صرف کړي دوی (په لاره د الله کښې؟) ووایه (ای محمده! دوی ته صرف کړئ! هغه چه وي) زیات (ستاسي له خرڅ نه)

**تفسیر:** زمونږ له رسول اکرم صلی الله علیه وسلم څخه خلقو داسي پوښتني کړي وي چه «د الله تعالی له پاره څومره مال صرف کړ شي؟» حکم وشو چه «هغه مال د پاک الله په لاره کښې صرف کړئ!، چه ستاسي له ضروري مصارفو څخه زیات وي.» ځکه څنګه چه د آخرت فکر یو ضروري او حتمي کار دی، د دنیا فکر هم یو ضروري کار دی.

دنیا ته دی زیار کاږه (محنت کوه)! چه واصل شي په نعمت
عقبیٰ ته دی زیار کاږه (محنت کوه)! چه داخل شي په جنت

هو! که تاسي خپل تول مال په یوه لاره کښې صرفوئ! نو خپل ضروریات به څرنګه پوره کړی شئ؟ او هغه حقوق چه په تاسي باندي لازم دي، هغه به څنګه ادا شي؟ او په دې تقدیر، الله تعالیٰ خبر دی چه د دنیوي او اخروي په څه راز راز (قسم قسم) خرابیو کښې به اخته کیږئ.

كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلْـَٔايَٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١٩﴾ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْـَٔاخِرَةِ ۗ

هم داسي (پاس بیان په شان) بیانوي الله تاسي ته احکام (او د خپلي مهرباني علامي) له پاره د دې چه تاسي فکر وکړئ د (الله تعالیٰ) په دلائلو او احکامو کښې) په (کارو د) دنیا او آخرت کښې

**تفسیر:** یعني فاني دنیا خو د حوائجو ځای دی. او باقي عقبیٰ خو د ثوابونو ځای دی، نو

ځکه په ډیر فکر او اندیښنه سره ښایي چه په هر امر کښي سم د هغه له حال سره مال صرف کړ شي! او اخروی او دنیوی مصالح دی دواړه په نظر کښي ونیول شي!.

په دنیا کښي ګټه کیږی د عقبا

ژر شه هم دا نن فکر وکړه د سبا

او د احکامو له واضح بیان ځنی هم دا خبره مطلوبه ده چه تاسی ته د فکر کولو موقع په لاس درشي.

## وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ الْيَتٰمٰى ط

او پوښتنه کوی دوی (له تانه ای محمده!) له معاملاتو د) یتیمانو؛

**تفسير:** ځینو خلقو به د یتیمانو (پلار مړیو) په مالو کښي احتیاط نه کاوه نو د هغه په نسبت داسی حکم صادر شو ﴿ وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ ﴾ او ﴿ إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتٰمٰى ظُلْمًا ﴾ الآیه ـ دلته هغه کسان چه د یتیمانو پالنه ئی کوله وویریدل او د هغوی دوډی او نور لګښت (خرچه) ئی له خپله ځانه بیخی جلا (جدا) کړه. ځکه چه د یتیمانو مالونه د شرکت په حالت کښي خوړل کیدل، دلته داسی یوه سختی پیښه شوه چه کوم شی به یتیم له پاره تیاریده د هغه پاتی برخه به خرابیده او ایسته به غورزاریده او په دا رنګه احتیاط کښي به د یتیمانو نقصان کیده، نو زمونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حضور کښي دا خبره عرض شوه نو د دی په نسبت دا آیت نازل شو

## قُلْ إِصْلَاحٌ لَّهُمْ خَيْرٌ ط وَإِنْ تُخَالِطُوهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ ط وَاللّٰهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ ط

ووایه (ای محمده دوی ته چه سمول (برابرؤل) او ساتل او) اصلاح د مال د دوی بهتر دی (له بیزاری نه) او که یو ځای کړئ (خرڅ د) دوی (له ځانه سره نو) دوی ورونه ستاسی دی او الله ته معلوم دی ضایع کوونکی د (مال له) اصلاح کوونکی نه

**تفسير:** یعنی مقصود خو یوازی هم دا خبره ده، چه د یتیم د مال اصلاح او اداره او ساتنه دی

په ښه ډول (طريقه) سره وکړی شی لـ نو هر وخت چه په جلا والی (جدا والی) کښې د يتيم گټه وی، هغه دی اختيار او غوره کړی شی! او چيری چه په شرکت کښې د يتيم خير او ښيگڼه (فائده) وليده شی، نو د هغه خرڅ دی هم د خپل ځان له خرڅ سره گډ کړی شی!. په دی کښې هيڅ يوه مضائقه او خبره نشته چه کله تاسی د هغوی له خوړو څخه وخورئ!، او کله په دوی باندی له خپلو خوړو څنی وخورئ!. ځکه چه هغه يتيمان خو ستاسی دينی يا نسبی ورونه او خويندی دی، او د ورونو گډون په خوړلو کښې څه بده خبره نه ده، هو! دا يوه ضروری خبره ده چه د يتيمانو د اصلاح او گټو رعايت دی په پوره ډول (طريقه) سره وکړی شی! او پاک الله ښه عالم دی چه په دی شرکت کښې د چا مقصود خيانت او د يتيم د مال فساد دی؟ او د چا منظور د يتيمانو اصلاح او دوی ته نفع رسول دی؟.

---

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَاَعْنَتَكُمْ

---

او که اراده کړی وی الله (د مشقت ستاسی) نو خامخا به ئی مشقت راوست په تاسی باندی.

---

**تفسير:** مشقت راوستل يعنی په خوړلو او څښلو کښې به ئی د يتيمانو مشارکت د صلاح په توگه (طور) هم مباح نه گرځاوه. يا دا که بی علمه او بی قصده به په کښې کوم کموالی يا ډير والی پيښيده په هغه کښې به ئی هم مؤاخذه کوله.

---

اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۲۰﴾

---

بيشکه چه الله ښه غالب (د احکامو په انفاذ کښې قوی) ښه تدبير والا دی (چه هر کار په حکمت او مصلحت سره کوی)

---

**تفسير:** يعنی ډير سخت او خورا (زيات) دروند حکم ورکولی شی، ځکه چه هغه ډير قوی او غالب دی خو داسی ئی ونه کړل، بلکه دآسانتيا حکم ئی ورکړ. ځکه چه هغه سم له حکمت او مصلحت سره حکم کوونکی دی (عم نواله!).

---

وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكٰتِ حَتّٰى يُؤْمِنَّ ۭ وَلَاَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكَةٍ وَّلَوْ اَعْجَبَتْكُمْ ۚ وَلَا تُنْكِحُوا الْمُشْرِكِيْنَ حَتّٰى يُؤْمِنُوْا ۭ

## وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكٍ وَّلَوْ اَعْجَبَكُمْ ؕ

او په نکاح مه آخلئ! مشرکی ښځی تر هغه پوری چه ایمان راوړی دوی او خامخا وینځه مؤمنه بهتره ده له مشرکی اصیلی ښځه اگر که ښه دربښکاره شی تاسی ته هغه (کافره) او په نکاح مه ورکوئ (مسلمانانی ښځی) کافرانو ته تر هغه پوری چه ایمان راوړی دوی او خامخا مریی مؤمن بهتر دی له کافر سړی نه اگر که ښه دربښکاره شی تاسی ته (هغه کافر)

**تفسیر:** پرومبی د مسلمان نارینه له کافری ښځی سره او د کافر له مسلمی سره د نکاح اجازه وه په دی آیت سره هغه امر منسوخ شو. که نارینه یا ښځه مشرکه وی، نو د هغی نکاح له مسلمان سره روا نه ده. یا که وروسته له نکاح ښځه یو له زوجینو ځنی مشرک شی نو پخوانی نکاح ماتیږی. او مشرک دا دی چه د الله تعالیٰ جل وعلیٰ شانه په علم یا په قدرت یا په بل کوم صفت کښی د هغه جل وعلیٰ شانه په مقابل کښی بل کوم شی مماثل ودروی یا ئی تعظیم وکړی. او لکه الله تعالیٰ داسی ئی وگنی. یا بل چا یا بل شی ته سجده وکړی. یا بل ځوک یا بل شی مختار وبولی، او له هغه ځنی خپل حاجت وغواړی دا خبره له نورو آیتو ښخه ښرگند شوی ده، چه د یهودانو او نصرانیانو له ښځو سره د مسلمان نارینه نکاح روا ده، او دوی په دی مشرکینو کښی نه دی داخل، مگر په دی شرط سره چه هغوی په خپل دین قائم وی. او خپل کتاب او نبی منی، اگر که عیسٰی بن الله او عزیر بن الله هم ووایی «العیاذ بالله!» او ملحدان او دهریان نه وی. لکه چه زیاتره کتابیان نن ورځ هم داسی لیدل کیږی، د دی آیت خلاصه دا ده «د مسلمان نارینه نکاح له مشرکی ښځی سره تر هغه پوری روا نه ده ځو چه مسلمانه نشی. په رښتیا سره چه مسلمانه وینځه له کافری ښځی ښخه بهتره ده، اگر که دا کافره ښځه اصیله، شریفه او ډیره ښکلی میرمنه هم وی او د مال او جمال او شرافت او عزت لامله (له وجی) ستاسی خوښه هم شی. هم دا راز (قسم) دی د مسلمانی ښځی نکاح له مشرک نارینه سره ونه تړله شی! مسلمان مریی هم له مشرک ځنی ډیر ښه دی اگر که دا مشرک اصیل، شریف او ښه ښاغلی (محترم) هم وی او د دولت ، شرافت، صورت او نورو ښیگنو (فائدو) له پلوه (طرفه) ستاسی په سترگو کښی دروند هم درشی. یعنی خورا ډیر ادنٰی مسلمان سړی له خورا ډیر اعلیٰ مشرک ځنی، افضل او اعلیٰ دی.

## اُولٰٓئِكَ يَدْعُوْنَ اِلَى النَّارِ ۖۚ

دغه کسان بولی (خلق په بد عمل سره) په لوری د اور (د دوزخ)

**تفسير:** يعني له هغو مشركينو او مشركاتو سره چه د هغوی ذکر په پاس آيت کښې وشو مينه، محبت، اختلاط او د هغو اقوالو ته غوږ نيول، او افعالو ته کتل نفرت کموی. او د مينې او رغبت سبب گرځی. چه د دی کار انجام دوزخ دی، نو ځکه له مشرکانو سره له نکاح تړلو څخه بيخی اجتناب او ځان ژغورنه (ساتنه) لازمه ده.

وَاللّٰهُ يَدْعُوٓا۟ إِلَى الْجَنَّةِ وَالْمَغْفِرَةِ بِإِذْنِهِۦ ۖ وَيُبَيِّنُ ءَايَٰتِهِۦ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٢١﴾ وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ ۖ قُلْ هُوَ أَذًى فَاعْتَزِلُوا۟ النِّسَآءَ فِى الْمَحِيضِ ۖ

او الله (او دوستان يی) بولی (خلق) په لوری د جنت او مغفرت په اذن (حکم او ارادی) خپلی سره او بيانوی احکام خپل خلقو ته دپاره د دی چه دوی نصيحت ومنی (پند واخلی) او پوښتنه کوی دوی له تانه (ای محمده!) له (احکامو د) حيض څخه، ووايه (ای محمده دوی ته) دا يوه پليتی ده نو په څنگ (جدا) شئ (له جماع د) ښځو (خپلو) په وخت د حيض کښې.

**تفسير:** «حيض» هغو وينو ته وايی چه له ښځو ځنی سم د هغو له عادت سره بهيږی په دی حالت کښې مجامعت، لمونځ، روژه، طواف، د قرآن تلاوت، مسجد ته ننوتل تول حرام دی. هغه وينه چه بی له عادت څخه ليدل کيږی، هغه ناروغی ده، نو په دی ناروغی کښې چه د فقهاؤ په اصطلاح ورته «استحاضه» وايی دغه پاس تول ممنوعه شيان روا دی. او د هغی وينی حال هسی دی لکه چه له کوم زخم يا پوزی يا رگ وهلو ځنی وينه بهيږی. يهودانو او مجوسيانو د «حيض» په وخت کښې له ښځو سره ډوډی خوړل، او په يوه کور کښې هستوگنه کول، او نور شيان هم ناجائز گڼل، مگر نصرانيانو حتٰی د حائضاتو له مجامعت ځنی هم ځانونه نه ژغورل (ساتل) مسلمانانو په دی مورد کښې له رسول اکرم صلی الله عليه وآله وصحبه وسلم څخه پوښتنه وکړه، نو دا آيت نازل شو. حضرت پيغمبر صلی الله عليه وسلم په ښکاره ډول (طريقه) سره فرمايلی دی چه د «حيض» په حالت کښې مجامعت حرام دی. ليکن له دوی سره خوړل، څښل، هستوگنه، ناسته ولاړه تول روا دی. او د يهودانو افراط او د نصرانيانو تفريط، دواړه مردود شول.

وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّىٰ يَطْهُرْنَ ۖ

او مه نږدې کيږئ! (په جماع سره) دوی ته تر هغه پورې چه (ښې) پاکې شي،

**تفسير:** په پاکيدلو کښې دا تفصيل دی که «حيض» پخپله پوره موده يعنی (١٠) ورځو کښې بند شو، نو هلته مجامعت روا دی که له لسو ورځو څخه پخوا وچه شوه مثلاً وروسته له (٦) ورځو او د ښځې عادی هم شپږ ورځې وی نو مجامعت د وينې له وچيدلو څخه وروسته تر هغه پورې روا نه دی، چه ښځه ولامبی، يا د يوه لمانځه وخت پرې تير شی، نو وروسته له هغه به له هغې سره مجامعت روا شی. که د ښځې عادت اوه يا اته ورځې وی، نو د دی ورځو د ختم (بشپړ) کيدلو څخه وروسته به مجامعت ورسره روا کيږی.

فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ اللَّهُ ۚ

نو هر کله چه ښې پاکې شوې دوی نو راځئ دوی ته (په جماع سره) له هغه ځايه چه حکم کړی دی تاسی ته الله.

**تفسير:** له هغه ځای څخه چه د مجامعت اجازه پکښې ورکړی شوې ده، يعنی د مخ له خوا چه له هغه ځايه کوچنيان (بچی) زيږی، او بل ځای ته راتګ (يعنی لواطت) حرام دی.

إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ ﴿٢٢٢﴾

بيشکه چه الله خوښوی بيا بيا توبه ايستونکی (له ګناهونو څخه) او خوښوی ځان ساتونکی له (پليتيو څخه).

**تفسير:** يعنی هغه کسان چه توبه کوی له هغی ګناه څنې چه له دوی څنې اتفاقاً صادره شوې وی مثلاً د «حيض» په حالت کښې د «وطی» مرتکب شوی وی، او هغه کسان چه له ناپاکی يعنی له ګناهونو او د «حيض» په حالت کښې، له «وطی» او د نجسی موقعی له «وطی» څنې ځان ژغوری (بچ کوی).

نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّىٰ شِئْتُمْ ۖ

ښځې ستاسی ځای د کرلو (د نسل) ستاسی دی، نو راځئ ځای د کرلو خپلو ته (چه قبل دی) په هر ډول (طريقه) سره چه خوښه وشی ستاسی.

**تفسير:** يهودانو د شا له لورى له ښځو سره مجامعت كول، ممنوع ګڼل، او ويل به يې «كه څوک داسې مجامعت وكړي، هغه كوچنى (بچى) چه له هسې مجامعت څخه پيدا كيږي، احول (كوږ سترګى) (ټيټ) به وي.» كله چه زمونږ پاک رسول صلى الله عليه وآله صحبه وسلم څخه په دې مورد كښې پوښتنه وشوه، نو دا آيت نازل شو. «يعنې ستاسي ښځې تاسو لره لكه ستاسو كښت (فصل) داسې دي، چه په دوى كښې نطفه د تخم په شان او اولاد د پيداوار غوندې دي. يعنې له هغه څخه اصلي مقصد يوازې د نسل پاتې كيدل، او اولاد زيږيدل دي، نو تاسې واک (اختيار) لرئ، چه له خپلو ښځو سره د مخ له خوا، ناسته، يا ملاسته، يا ولاړه يا په اړخ، يا د شا له لورى، د مخ په خوا په هر ډول (طريقه) مو چه زړه غواړى، مجامعت وكړئ!. مګر دا خبره ضرورى ده، چه تخم شيندل دې په همغه خاصه موقع كښې وي چه له هغه څخه مولود موجوديږى. يعنې مجامعت دې هرومرو (خامخا) په فرج كښې وشي! او له لواطت څخه دې خامخا ځان وژغورئ!(وساتئ) ځكه چه ځاى د مردارى او نجاست دى. د يهودانو دا خيال غلط دى، چه له هسې مجامعت څخه احول «ټيټ» مولود موجوديږى.»

وَقَدِّمُوا لِأَنفُسِكُمْ

او په مخ كښې وليږئ تاسې! دپاره د ځانو خپلو (نيک عمل)!

**تفسير:** يعنې صالحه اعمال تل د ځان له پاره كوئ! يا دا چه له «وطى» څخه مو ښايي صالح اولاد مطلوب وي. او يوازې نفساني حظ مو مقصود نه وي.

وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّكُم مُّلَاقُوهُ ۗ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٢٢٣﴾ وَلَا تَجْعَلُوا اللَّهَ عُرْضَةً لِّأَيْمَانِكُمْ أَن تَبَرُّوا وَتَتَّقُوا وَتُصْلِحُوا بَيْنَ النَّاسِ ۗ

او وويريږئ! له الله څخه او وپوهيږئ! چه بيشكه تاسې ملاقات كوونكى يئ له الله سره او زيرى وركړه (اى محمده!) مؤمنانو ته (د جنت) او مه ګرځوئ! (نوم د) الله نښانه له پاره د قسمو خپلو (پر دغه) چه (نه) به نيكى كوئ او (نه) به پرهيزګارى كوى او (نه) به روغه كوئ په مينځ د خلقو كښې.

**تفسیر:** یعني د کوم ښه کار په نه کولو باندی په الله تعالیٰ قسم یادوئ. مثلاً له خپلی مور او پلار سره به خبری نه کوم. یا فقیرانو ته به خیر خیرات نه ورکوم. یا له هیچا سره به مصالحت یعني روغه نه کوم یعني په هسی قسمو کښی د پاک الله نوم د خرابو کارو وسیله گرځوی، نو وروسته له دی هسی قسمونه مه خورئ! که څوک بیا داسی قسمونه یادوی، نو د هغه ماتول او «کفاره» ئی ورکول پری واجبیږی.

وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۲۴﴾

او الله ښه اوریدونکی (د تولو اقوالو) ښه عالم (پر تولو اعمالو) دی.

**تفسیر:** یعني هر څوک چه قسم یادوی الله تعالیٰ ئی اوری. که څوک د پاک الله د جلال او عظمت له ویری له قسم خوړلو څخه ځان ساتی، نو (**سمیع او علیم الله**) د هغه په نیت ښه عالم او ښه خبردار دی. ستاسی هیڅ یوه پته او ښکاره خبره له الله تعالیٰ څخه پته نه ده. نو ځکه د زړه په نیت او د ژبی په خبرو او نورو کارونو کښی ډیر زیات احتیاط په کار دی.

لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِيْٓ اَيْمَانِكُمْ

نه نیسی تاسی الله په لغو (او په گمان) سره په قسمو ستاسی کښی

**تفسیر:** لغو او چتی (بیکاره) قسم (لوړل) هغه دی، چه له خولی ځنی سم له عادته یا عرفه سره چتی پتی (بیکاره) ووځی، او د زړه له کومی (منځ) او په عمدی او ارادی ډول (طریقه) سره نه وی. له هسی قسم یادولو ځنی نه په چا باندی «کفاره» اوړی، او نه پری گناهگاریږی. هو! که څوک په قصد او اراده سره د قسم الفاظ لکه «والله» «بالله» «تالله» ووائی، او له دی قسم ځنی ئی یوازی تاکید مقصود وی، او قسم خوړل او لوړل ئی په زړه نه وی، نو پری «کفاره» اوړی. د «کفاری» بیان وروسته له دی نه راځی.

وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ بِمَا كَسَبَتْ قُلُوْبُكُمْ

او لیکن نیسی (الله) تاسی په هغه (قسم) چه قصد کړی وی (د هغه) زړونو

ستاسی (پس له حنثه).

**تفسیر:** یعنی هغه قسم چه عمدی او په قصد سره وی، او په هغه کښی زړه او ژبه سره بیخی یو شی وی، نو د هسی قسم په ماتولو باندی هرومرو (خامخا) «کفاره» آوری. دا منهب د «امام شافعی رحمة الله علیه» دی، او زمونږ د حنفیانو په منهب لغو قسم هغه دی چه په تیره زمانه کښی ئی کار کړی وی په تخمین او گمان سره، او قسم پری وکړی، او په واقع کښی هغسی نه وی دا یمین «قسم لغو» او معفو دی.

وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿۲۲۵﴾

او الله ښه مغفرت کوونکی (د خطیئاتو) ښه تحمل کوونکی دی (په تاخیر د عقوبت لپاره د انابت).

**تفسیر:** «غفور» او مغفرت کونکی دی چه په لغو او چټی (بیکاره) قسمو باندی مواخذه نه کوی. او «حلیم» دی چه په مؤاخذه کښی تلوار نه کوی، ښایی چه بنده توبه وکړی.

لِلَّذِيْنَ يُؤْلُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ تَرَبُّصُ اَرْبَعَةِ اَشْهُرٍۚ فَاِنْ فَآءُوْ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۲۶﴾ وَاِنْ عَزَمُوا الطَّلَاقَ فَاِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۲۷﴾

دی هغو کسانو لره چه قسمونه کوی له (جماع د) ښځو خپلو نه (مطلقاً یا تر څلورو میاشتو پوری) انتظار د څلورو میاشتو، نو که بیا رجوع وکړه دوی (او سره یو ځای شول) پس بیشکه چه الله ښه ښښونکی (د خطیئاتو) پوره رحم لرونکی دی (د اجر او ثواب په انعام سره). او که قصد وکړ دوی طلاق (او رجوع ئی ونه کړه) پس بیشکه چه الله ښه اوریدونکی (د تولو اقوالو) ښه عالم دی (پر تولو احوالو).

**تفسیر:** یعنی که څوک قسم وخوری چه زه به خپلی ښځی ته نه نژدی کیږم! بیا که دی د څلورو میاشتو په منځ کښی هغه ته ورنژدی شو، نو د خپل قسم «کفاره» به ورکوی او ښځه به د هغه په نکاح کښی پاتی کیږی. که څلور میاشتی تیری شوی او دی هغی ته ورنژدی نه شو نو

د ده ښځه به په «بائن طلاق» سره طلاقه شي.

**فائده:** په شرع کښې «ایلاء» دې ته وایي چه سړی قسم وخوري چه زه خپلې ښځې ته تر څلورو میاشتو یا له څلور زیات یا بې د مودې له قیده نه نږدې کیږم. «ایلاء» څلورو میاشتو څخه لږه نه کیږي. د «ایلاء» په دې درې واړو صورتونو کښې که نارینه خپلې ښځې ته د دې څلورو میاشتو په منځ کښې ورنږدې کیږي «نو کفاره» پرې اوړي، او ښځه ئې په نکاح کښې پاتې کیږي، که نه د څلورو میاشتو په پای (آخر) کښې له ده څخه بې د طلاقو د یادولو هغه ښځه په «بائن طلاق» سره جلا (جدا) کیږي. که له څلورو میاشتو څخنې په لږه قسم وخوړ. لکه چه وایي تر دریو میاشتو پورې خپلې ښځې ته نه ورنږدې کیږم، نو دا شرعي «ایلاء» نه ده، او حکم ئې دا دی که هغه قسم ئې مات کړ، مثلاً په هم دې یاد شوي صورت کښې د دریو میاشتو په منځ کښې هغې ښځې ته ورنږدې شو، نو د هغه قسم «کفاره» واجبیږي، او که ئې د قسم موده پوره شوه، یعني تر دریو میاشتو پورې هغې ته ورنږدې نه شو نو نه ښځه وربانډې طلاق کیږي او نه وربانډې «کفاره» لازمیږي.

---

وَالْمُطَلَّقٰتُ يَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْٓءٍ ؕ وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ اَنْ يَّكْتُمْنَ مَا خَلَقَ اللّٰهُ فِيْٓ اَرْحَامِهِنَّ اِنْ كُنَّ يُؤْمِنَّ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ

---

او طلاقې کړې شوې ښځې دې انتظار کوي په ځانو خپلو (له نکاح نه تر) دریو حیضو (کاملو) پورې او نه دي روا دوی لره چه پټوي به دوی هغه شي چه پیدا کړي دي الله په ارحامو د دوی کښې (له ولده یا حیضه) که وي دوی چه ایمان لرونکې وي په الله او په ورځې آخرې (چه قیامت دی).

---

**تفسیر:** کله چه نارینه خپلې ښځې ته طلاق ورکړي، نو هغه ښځه له بل چا سره تر هغه پورې خپله نکاح نشي ترلی، څو چه درې «حیضه» ئې پوره نشي، دا د دې دپاره که چیرې حامله وي، حمل به ئې ښکاره شي. او د یوه اولاد، به د بل چا نه شي. نو ځکه پر ښځې بانډې فرض دي چه هر هغه شي چه د هغې په ګیډه کښې وي. هغه ښکاره کړي حمل وي او که حیض وي، او دې مودې ته په شرع کښې «عدت» وایي.

**فائده:** دلته له مطلقاتو څخنې خاص هغه ښځې مرادې دي چه هغوی ته له نکاح څخه وروسته د صحبت (مجامعت) یا «شرعي خلوت» نوبت وررسیدلی وي، او دې ښځو ته «حیض» هم ورځي، پر هغې ښځې بانډې چه ورسره مجامعت یا «صحیحه خلوت» نه وي شوی، وروسته له طلاقه بیخي

«عدت» نشته. او هغه ښځه چه بیخي نه حائضه کیږي مثلاً وړه یا داسي بوډۍ او زړه وي چه له وینې پاکه وي، یا حامله وي، نو په دوه ؤ وړاندنیو (اولنو) صورتونو کښې، د دوی د عدت موده دری میاشتی دی. او د اولاد لرونکی (حاملی) عدت، د هغی د اولاد زیږول (د حمل وضعه) ده. هغه ښځه چه خپلواکه (آزاده) نه وی بلکه د کومی شرعی قاعدی په موجب وینځه شوی وی، که حائضه کیږی، نو د هغی د عدت موده دوه حیضه ده. که نه حائضه کیږی، نو د صغارت او کبارت په صورت کښې د هغی عدت یوه نیمه میاشته ده، او په هغه صورت کښې چه حامله وی نو د اولاد زیږول (د حمل وضعه) ده. دا تفصیلات له نورو آیتونو او احادیثو څخه ثابت شوی دی.

وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِي ذَٰلِكَ إِنْ أَرَادُوا إِصْلَاحًا ۚ

او میړونه (خاوندان) د دوی ښه لائق (وړ) دی په بیا کولو د دی ښځو په دی (موده) کښې که اراده لری دوی د جوړښت (په خپلو منځو کښې).

**تفسیر:** یعنی که نارینه د عدت په موده کښې وغواړی چه هغه ښځه بیرته ځان ته وګرځوی، کولی شی، که څه هم د هغی ښځی خوښه نه وی. خو ښائی چه په دی ګرځولو کښې مقصود ښه سلوک او اصلاح وی. او ښځه ونه ربړوی، او ویې نه ویروی، او په دی ئی نه مجبوره وی چه خپل «مهر» ورپریږدی. چه دا ټول ظلم او تیری دی که داسی کوی ګنهګاریږی که څه هم رجعت ئی صحیح دی.

وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ ۚ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ ۗ

او شته دی ښځو لره (حقوق پر میړونو (خاوندانو) باندی) په شان د هغو (حقوقو) چه په دوی دی (د خاوندانو) په معروف (ښه وجه) سره او شته نارینه ؤ لره په دی ښځو باندی بهتروالی (فضیلت).

**تفسیر:** یعنی دا امر خو حق دی، همغسی چه د نارینه ؤ حقوق پر ښځو باندی دی، همغه شانی د ښځو حقوق پر نارینه ؤ باندی هم دی، چه سم له اصولو سره د هغو حقوقو په ځای راوړل پر دواړو باندی ضروری دی، نو اوس نارینه لره ښایی چه له خپلی ښځی سره په هیڅ ډول (طریقه) بده ګذاره او خراب سلوک ونه کړی. بلکه د ښځی هر راز (قسم) حق تلفی ممنوعه ده. مګر دا یو فضیلت او فوقیت نارینه پر ښځو باندی لری چه د رجعت واک او اختیار خامخا نارینه لره دی.

وَاللّٰهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿۲۲۸﴾ اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ فَاِمْسَاكٌۢ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ تَسْرِيْحٌۢ بِاِحْسَانٍ

او الله ښه غالب (د احکامو په انفاذ) او ډير تدبير والا دی (چه هر کار په حکمت او مصلحت سره کوی) (رجعی) طلاق دوه کرته دی نو بيا ساتنه (د ښځو) ده (په رجوع سره) په معروف (ښه وجه) سره يا پريښوول دی (د ښځو) په ښه وجه سره.

**تفسير:** پخوا له اسلام څخه داسی دود (رواج) او دستور ؤ چه لس شل ځلی هر څومره چه د نارينه زړه غوښته، خپلی ښځی ته به ئی طلاق ورکاوه، مګر پخوا د عدت له ختميدلو څخه به ئی بيا رجعت ورته کاوه، او بيا به ئی طلاق کوله او په دی ډول (طريقه) ځينو نارينه ؤ خپلو ښځو ته زيات تکليف او زحمت ورپيښاوه، نو بنا پر دی دا آيت نازل شو، هغه طلاق چه رجعت پکښی کيدی شی، تول سره دوه ځلی دی، چه په هغه کښی نارينه واکمن دی چه د «عدت» په شپو کښی بيرته له سره رجعت وکړی، يا ئی په ښه ډول (طريقه) سره خوشی کړی. وروسته د «عدت» له تيريدلو څخه «رجعت» نه پاتی کيږی. هو! که دوی دواړه بيا سره خوښ وو، بيا نکاح ترلی شی، او که دری طلاقه ورکړی، نو بيا سره له خوښی هم دوی نکاح نشی سره ترلی، تر څو چه هغه ښځه بل ميړه (خاوند) ونه کړی، او له هغه سره جماع او خلوت ونه کړی.
**فائده:** له «امساک بمعروف» او له «تسريح باحسان» څخه دا غرض دی چه که رجعت کوی نو ښائی چه د موافقت او حسن معاشرت دپاره وی، او د ښځی بند ساتل او ربړول (ازارؤل) مقصود نه وی، لکه چه د دوی په منځ کښی دستور ؤ که نه په سهولت او ښه ډول (طريقه) سره دی پريږدی.

وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَاْخُذُوْا مِمَّآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ شَيْـًٔا اِلَّآ اَنْ يَّخَافَآ اَلَّا يُقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ

او روا نه دی تاسو ته (ای خاوندانو) چه واخلئ تاسی له هغه مال څخه چه ورکړی وی تاسی دوی ته (په «مهر» کښی) هيڅ شی مګر که ويريږی دوی (يعنی ميړه (خاوند) او ارتينه) (زوجه) چه وبه نشی ساتلی دوی دواړه احکام د الله.

**تفسیر:** یعنی نارینه ؤ لره دا روا نه ده چه له ښځو څخنی د طلاق په بدل کښی هغه مهر بیرته واخلی چه ورکړی ئې دی. هو! دا هلته روا دی چه څه ناچاری وی، او په هیڅ ډول (طریقه) د دوی په منځ کښی موافقت سره رانشی، او دوی له دی خبری څخنی ویرېږی، چه مخالفت له شدته د الله تعالیٰ په احکامو باندی تینګ نه شی پاتی کیدی، او په ښه ډول (طریقه) یو له بله سره معاشرت او ژوندون نشی کولی، او د نارینه له جانبه د ارتینی (زوجی) د حقوقو په ادا کښی څه تیری او قصور هم نه وی. که نه د هغه مال اخیستل نارینه لره ناروا او حرام دی.

فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ

پس که ویرېږئ تاسی چه وبه نشی ساتلی دوی (دواړه) حکمونه د الله (په زوجیه ؤ امورو کښی) نشته هیڅ ګناه په دوی دواړو باندی په هغه شی کښی چه فدیه ورکړی په هغه سره (دا ښځه او ځان خلاص کړی)

**تفسیر:** یعنی ای مسلمانانو! که تاسی له دی نه ویرېږئ چه د نارینه او ښځی په منځ کښی داسی جګړی او مخالفتونه دی چه د هغوی په ژوندون کښی موافقت نه سره راځی نو په دی صورت کښی په دوی باندی څه ګناه نشته چه ښځه څه مال ورکړی، او خپل ځان د هغه د نکاح له قیده جلا (جدا) کړی، او نارینه د هغی مال واخلی. دی ته «خلع» وایی، کله چه د ضرورت په حالت کښی د میره (خاوند) او د ارتینی (زوجی) له پاره «خلع» کول، روا شول، نو تولو مسلمانانو ته ښایی چه په دی کښی سعی وکړی.

**فائده:** یوه ښځه د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم حضور ته حاضره شوه او ویی ویل چه زه له خپله میره (خاوند) څخه خفه یم او نه غواړم چه د هغه سره واوسم رسول الله صلی الله علیه وسلم چه د دی موضوع تحقیق وفرمایه، هغی ښځی وویل چه میره (خاوند) می نه زما د حقوقو په ادا کولو کښی کمی کوی، او نه زه د هغه په اخلاقو او دیانت باندی څه اعتراض لرم، خو زما هغه طبعاً بدی شی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له هغی ښځی څخنی «مهر» بیرته واخیست، او میره (خاوند) ته ئې ورکړ، چه طلاقه ئې کړه، نو په دی مناسبت دا آیت نازل شو.

تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ فَلَا تَعْتَدُوهَا وَمَنْ يَتَعَدَّ حُدُودَ اللَّهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ ﴿٢٢٩﴾

دا (ذکر شوی احکام) حدود د الله دی نو تاسی مه تیرېږئ! له حدودو د الله

او هر (هغه) څوک چه تیریږی له حدودو د الله نه نو دغه کسان هم دوی دی ظالمان (چه شیان بی ځایه ږدی).

**تفسیر:** یعنی دا ټول مذکوره احکام طلاق، رجعت، خلع، حدود او قواعد د پاک الله مقرره اصول دی، نو د هغو تعمیل او پابندی ډیره ضروری ده. او ښایی چه هیڅ یو قسم مخالفت، تغییر او کوتاهی په هغه کښی ونه کړه شی!.

فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتَّىٰ تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ ۗ فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يَتَرَاجَعَا إِنْ ظَنَّا أَنْ يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ ۗ وَتِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٢٣٠﴾

نو (وروسته له دی دوو طلاقو څخه) که بیا ئی طلاقه کړه دا ښځه (دریم ځلی) پس بیا حلاله نه ده (دا ښځه) ده لره پس (له دی نه) تر هغه پوری چه په نکاح واخلی دا ښځه میړه (خاوند) بل پرته (علاوه) له ده نه، نو که طلاقه کړه دوهم میړه (خاوند) (هم) دا ښځه (او عدت ئی تیر شو) پس نشته هیڅ ګناه په دغو دواړو ښځه او ړومبنی میړه (خاوند)، چه بیا سره رجوع وکړی دواړه که ګمان وی د دی میړه (خاوند) او ښځی په دی چه اقامه به کړی دوی احکام د الله (او په ځای به ئی کړی)، او دا (ذکر شوی احکام) حکمونه د الله دی چه بیانوی ئی (د هغه) قوم دپاره چه پری پوهیږی (او په مقتضاء د علم عمل کوی).

**تفسیر:** یعنی که میړه (خاوند) خپلی ښځی ته دریم ځلی «طلاق» ورکړی، نو بیا به هغه ښځه ده ته هیڅ نه روا کیږی، تر څو هغه ښځه له بل کوم سړی سره خپله نکاح ونه تړی، او هغه بل میړه (خاوند) له دی سره صحبت (جماع) ونه کړی. او بیا پخپله خوښه سره «طلاق» ور نه کړی، او د هغه دوهم میړه عدت هم پوره نشی، وروسته له دی نه چه د «فقهاؤ» په اصطلاح ورته «حلاله» وایی د هغه ړومبنی میړه (خاوند) سره دوهمه نکاح هلته ترله کیږی چه د پاک الله د احکامو د ساتلو فکر له دوی سره وی. یعنی هر یو د بل حقوق په ښه شان سره وساتی او پخپلو نفسو باندی په ښه شان سره اعتماد او اطمینان ولری که نه خامخا بیا د دوی په منځ کښی جنګ جنجال او شورماشور پیښیږی او بیا د حقوقو اتلاف ته نوبت رسیږی، او په ګناه کښی اخته کیږی حال دا چه د نکاح اساس په محبت او مودت دی او مینه او الفت او ښه ژوندون د

نکاح غرض او غایه ده اګر که د صحت شرط ئی نه دی.

وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ سَرِّحُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ ۚ وَلَا تُمْسِكُوهُنَّ ضِرَارًا لِّتَعْتَدُوا ۚ

او کله چه طلاقی کړئ تاسی ښځی نو ورسیږی دوی (آخر د) عدت خپل ته (یعنی چه د عدت ختمیدلو ته نژدی شی) نو وساتی! دوی په ښه ډول (طریقه) سره (یعنی رجوع ورته وکړئ!) یا خوشی کړئ! دوی په معروف ښه ډول (طریقه) سره او مه ساتئ تاسو! دا ښځی (په رجعت سره) له پاره د ضرر رسولو له جهته د دی چه (پر دوی باندی) تیری وکړئ!

**تفسیر:** یعنی د عدت تر ختمیدلو پوری میړه (خاوند) واکمن او مختار دی، چه له هغی ښځی سره بیا موافقت او اتحاد وکړی او رجوع ورته وکړی، یا ئی په خوښی او خوشالی سره بیخی پریږدی. دا هیڅکله ورته روا نه ده چه په بند کښی ئی وساتی، او د ربړولو (ازارؤلو) لامله (له وجی) بیا رجوع ورته وکړی. لکه چه څینو سریو هم داسی کول.
**فائده:** په پخوانی آیت ﴿ اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ ﴾ کښی دا ښوولی شوی ؤ، چه تر دوو طلاقو پوری میړه (خاوند) ته اختیار شته، چه یا ښځه په دیر ښه ډول (طریقه) سره له خپل ځان سره پخلا (راضی) کړی یا ئی بیخی پریږدی. اوس په دی آیت کښی داسی ارشاد فرمایی، چه دا اختیار یواځی تر «عدت» پوری دی، او وروسته له عدت څخه دا واک (اختیار) میړه (خاوند) ته نه پاتی کیږی، نو ځکه نه ښایی چه دلته چاته د تکرار شبهه پیدا شی.

وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُ ۚ وَلَا تَتَّخِذُوا آيَاتِ اللَّهِ هُزُوًا ۚ وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَمَا أَنزَلَ عَلَيْكُم مِّنَ الْكِتَابِ وَالْحِكْمَةِ يَعِظُكُم بِهِ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٢٣١﴾

او هر هغه څوک چه وکړی داسی کار نو په تحقیق سره ظلم ئی وکړ په ځان خپل او مه ګرځوئ! آیاتونه د الله (داسی چه په اعراض او تهاون سره) مسخری (پری وکړئ!) او یاد کړئ! نعمت د الله (چه اسلام دی) په تاسی

باندی او (یاد کړئ!) هغه چه نازل کړی دی (الله) په تاسی باندی چه کتاب دی او حکمت (احکام د کتاب) دی چه پند درکوی الله تاسی ته په هغه (منزل من الله) سره او وویریږئ! له الله نه او پوه شئ! تاسی چه بیشکه الله پر هر شی باندی ښه پوه دی.

**تفسیر:** په نکاح، طلاق، ایلاء، خلع، رجعت، حلاله او نورو کښی لوی لوی حکمتونه او مصلحتونه دی، په دوی کښی پلمی (تدبیرونه) او بهانی کول، او د بیهوده او چتی (بیکاره) اغراضو لامله (له وجی) مداخله کول، داسی دی لکه چه څوک د پاک الله جل وعلیٰ شانه په احکامو باندی مسخری او توقی کوی نعوذ بالله من ذلک! مثلاً چه څوک رجعت وکړی او مقصود ئی داسی وی، چه ښځه وربروی (تکلیف کړی) ، نو پاک الله ته داسی خبری او ارادی تولی ښکاره دی، او له داسی پلمو (فریبونو) څخنی پرته (علاوه) له ضرره بل کوم شی په لاس نه ورځی.

وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ أَنْ يَّنْكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ إِذَا تَرَاضَوْا بَيْنَهُمْ بِالْمَعْرُوفِ ط

او هر کله چه طلاقی کړئ تاسی ښځی پس ورسیدی دوی تاکلی (مقرری) مودی خپلی ته (په دی شانی چه عدت ئی تیر شی) نو مه منع کوئ تاسی دوی! له دی نه چه په نکاح واخلی دوی میرونه (خاوندانو) خپل کله چه دوی سره خوښ وی په خپلو منځو کښی په معروف (سم له دستوره) سره.

**تفسیر:** یوی ښځی ته د دی میره (خاوند) یو یا دوه طلاقه ورکړل، او بیا ئی په «عدت» کښی «رجعت» هم ورته ونه کړ، کله چه د دی ښځی د عدت موده ختم شوه نو د نورو غوښتونکو په منځ کښی د دی مخطوبی ښځی هغه پخوانی میره (خاوند) هم د خپلی نکاح پیغام ورولیږه. ښځه هم په دی خبره باندی خوښه وه، مگر د دی ښځی ورور ته قهر ورغی، او دا نکاح ئی معطله کړه، په دی خبره باندی دا حکم نازل شو، چه ښایی د ښځی خوشالی او هوسایی (آرام) تر نظر لاندی ونیوله شی! او لازم دی چه هغی له خوښی سره سم نکاح وتړله شی! او نه ښایی چه د کوم بل چا خیال او ناخوښی پکښی مداخله وکړی، دا خطاب عام دی. او تولو هغو کسانو لره شامل دی چه د ښځو د نکاح مخه نیسی، او هغه نه پریږدی، چه پخپله خوښه سره د خپل نوی ژوندون سرشته او انتظام وکړی. عام له دی نه چه دا منع کوونکی همغه ړومبی میره (خاوند) وی، چه دی ښځی ته ئی «طلاق» ورکړی دی، او اوس د دی ښځی مخه نیسی چه له بل چاسره نکاح ونه تړی. یا د دی ښځی کوم ولی او وارث وی، چه دا ښځه نه پریږدی چه همغه خپل

پخوانی میره (خاوند) یا بل کوم میره (خاوند) وکړی. هو! که کومی بی قاعدی خبری په منځ کښی راغلی وی، لکه چه د کوم غیر کفو (ناسیال) سره ښځه خپله نکاح ترل غواړی، یا ئی عدت نه وی پوره شوی، نو هلته دوی ته د هسی نکاح د ممانعت حق شته. او د «بالمعروف» له فرمایلو څخه هم دا مطلب دی چه دوی له حلالی نکاح، روا مهر او ښه ژوند څخه مه منعه کوئ.

ذٰلِكَ يُوعَظُ بِهِۦ مَن كَانَ مِنكُمْ يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ ۗ

دا (حکم د نه منع کولو) پند ورکاوه کیږی په ده سره هغه چاته چه وی دی له تاسی نه چه ایمان لری په الله او په ورځی آخری باندی.

**تفسیر:** یعنی له هغه حکمه چه مذکور شو ایماندارو ته پند ورکاوه شی، ځکه چه له دی پند څخه هم دوی ګټه اخلی او که نه دا پند ورکول د تولو خلقو لپاره دی، او په هغه کښی د هیچا څه خصوصیت نشته، او د مؤمنانو له اختصاص څخه ضمناً نورو ته تهدید او د هغو تحقیر هم تری څرګندیږی. یعنی هغه خلق چه په دی احکامو باندی عمل نه کوی، ګواکی دوی په الله تعالیٰ او جزا په ورځی باندی ایمان نه لری.

ذٰلِكُمْ أَزْكَىٰ لَكُمْ وَأَطْهَرُ ۗ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٢٣٢﴾

دا (د منع او ضرر ترک) ډیر غوره دی تاسی (او دوی) ته او ښه پاکیزه دی او الله عالم دی (پر هر شی) او تاسی نه پوهیږئ. (په خپل خیر هم).

**تفسیر:** یعنی د هغی ښځی په نه ستنولو (واپس کولو) له نکاح څخنی او د هغی ښځی په نکاح کښی داسی ښیګڼه (فائده) او پاکیزګی ده چه د نکاح په ممانعت کښی هغه هیڅ کله نشته، کله چه ښځه خپل ړومبنی میره (خاوند) ته راغبه وی، نو ښایی چه له هغه سره ئی نکاح وتړله شی، ځکه په دی نکاح کښی هسی ښیګڼه (فائده) او پاکیزګی ده چه د بل چا په نکاح کښی داسی ښیګڼه (فائده) هیڅ نشته الله تعالیٰ ته د هغوی د زړو خبری او راتلونکی ګټی او تاوان داسی ښه معلوم دی، چه تاسی پری نه پوهیږئ!

وَٱلْوَٰلِدَٰتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَٰدَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ ۖ لِمَنْ أَرَادَ أَن يُتِمَّ ٱلرَّضَاعَةَ ۚ

او ميندى (مور) دى شودى (پيۍ) وركوى اولاد خپل ته دوه كاله پوره دا (حكم) هغه چا لره دى چه اراده لرى د دى چه پوره كړى (نيته د) تى وركولو

**تفسير:** يعنى په ميندو باندى حكم دى چه خپل اولاد ته دى تر دوو كلو پورى شودى وركړى!. او دا موده هغه چا لره ده چه مور او پلار ئى وغواړى چه هغه موده پوره كړى. كه نه په دى موده كښى لږوالى هم روا دى. لكه چه په وروستنى آيت كښى راځى. او په دى حكم كښى هغه ميندى هم داخلى دى، چه د هغوى نكاح باقى وى. يا طلاقى شوى وى او يا د هغوى د «عدت» موده تيره وى. هو! دومره فرق شته چه په هر حال ميره (خاوند) نفقه او كالى (جامى) منكوحى ته او معتدى ته وركوى عام له دى نه چه ښځه هغه مولود ته شودى وركوى، يا ئى نه وركوى، او كله ئى چه «عدت» ختم شو نو بيا به نفقه او كالى (جامى) د شودو وركولو لامله (له وجى) وركوى. او له دى آيت ځنى دا معلومه شوه چه د شودو وركولو د مودى انتهاء پوره دوه كاله دى، چه شايى هغه موده په مور يا په بله كومه ښځه باندى پوره شى! او پلار هم په هم دغو دوو كلونو كښى مجبور دى چه د خپل وړوكى د شودو اجرت اداء كړى.! او دا ترى نه معلوميږى چه د شودو وركولو موده له دوو كلونو ځنى زياته نه ده.

وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ إِلَّا وُسْعَهَا لَا تُضَآرَّ وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوْلُودٌ لَّهُ بِوَلَدِهِ

او ده پر هغه چا چه زيږول شوى دى ورته (يعنى پلار) روزى د دوى (يعنى د ميندو) او كالى (جامى) د دوى (يعنى د ميندو) په معروف (سم له دستوره) سره او زور نشى كولى په هيڅ نفس باندى مگر په اندازه د توان د ده سره نه دى ضرر رساوه كيږى مور ته په سبب د ولد د دى سره او نه (دى ضرر رساوه شى) پلار د دى ولد ته په سبب د ولد د ده سره.

**تفسير:** يعنى پلار ته شايى چه د وړكى مور ته دودى او كالى (كپړى) په هر حال كښى وركړى! په اول صورت كښى د دى لامله (له وجى) چه هغه د ده په نكاح كښى ده، او په دوهم صورت كښى د دى له پاره چه په «عدت» كښى ده. او په دريم صورت د شودو وركولو اجرت (باړه) په ده باندى كيږى. او نه شايى چه د وړوكى مور او پلار يو بل ته د هغه وړوكى لامله (له وجى) څه ربړ (ازار) او تكليف وركړى. مثلاً مور ته لازم نه دى چه بى سببه له شودو وركولو

ځخه مخ واړوی. یا پلار بې سببه وړوکی له مور ځخه جلا (جدا) کړی، او د بلې کومې ښځې په شودو ئې ورروزی، یا د هغه د مور په نفقه او پوشاک کښې څه تنګی وکړی.

وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذٰلِكَ

او شته په وارث (د پلار) باندې په شان د هغه (نفقه چه په پلار وه)

**تفسیر:** یعنې که پلار مړ شی، نو په وړکی او د وړکی په وارثانو باندې هم دا خبره لازمه ده چه د شودو رودلو په موده کښې د هغه مور ته د دودی او کالیو (جامو) مصارف ورکړی، او هیڅ څه تکلیف ورته ونه رسوی!. او له وارث ځنی هغه وارث مراد دی چه محرم هم وی.

فَإِنْ أَرَادَا فِصَالًا عَنْ تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا

نو که وغواړی دوی دواړه (مور او پلار) بیلول (له تی ځنی پخوا له دوه کلونو ځخه) په خوښی سره چه وی له دوی دواړو نه او په مشوری (د دواړو سره) پس نشته هیڅ ګناه پر دوی دواړو باندې (په دی کښې)

**تفسیر:** یعنې که مور او پلار د کوم مصلحت له امله (وجې) د دوه کلونو په منځ کښې له مشوری او رضامندی ځخه وروسته، وړکی له تی بیلوی، او شودی نه ورکوی، نو پکښې څه ګناه نشته. مثلاً چه د مور شودی ښې نه وی.

وَإِنْ أَرَدْتُمْ أَنْ تَسْتَرْضِعُوا أَوْلَادَكُمْ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِذَا سَلَّمْتُمْ مَا آتَيْتُمْ بِالْمَعْرُوفِ

او که قصد وکړئ تاسی چه دایی ونیسئ! (بله ښځه له پاره) د تی ورکولو اولاد خپل ته نو نشته هیڅ ګناه پر تاسی باندې کله چه وسپارئ تاسی! هغه شی چه قصد د ورکولو کړی وی تاسی دوی ته په معروف (سم له دستوره) سره

**تفسیر:** یعنې ای نارینه وو! که تاسی د کوم مصلحت او ضرورت لامله (له وجې) پرته (علاوه) له موره د بلې کومې ښځې په شودو باندې خپل وړکی وروزئ (وپالی) نو په دی کښې هم څه ګناه

نشته، مګر داسی نه چه د مور له برخی او حق ځنی کوم شی کم شی، بلکه سم له دود (رواج) او دستور سره د کوم شی ورکول چه مور لره وی هغه پوره ورکړئ!. او دا مطلب هم کیدای شی چه د دایی حق پوره ورکړئ!.

---

وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوٓا اَنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۲۳۳﴾ وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا يَّتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّعَشْرًا ۚ

---

او وویریږئ! له الله او پوه شئ!. چه بیشکه الله په هغو شیانو چه کوئ ئی تاسی ښه لیدونکی (عالم په پټو او ښکاره ؤ) دی او هغه کسان چه مړه شی له تاسی نه او پریږدی دوی ښځی انتظار دی کوی دا ښځی (د نکاح کولو څخه) په ځانو خپلو څلور میاشتی او لس (ورځی).

---

**تفسیر:** پخوا له دی نه دا خبره تیره شوه چه د طلاق په عدت کښی د دری حیضونو انتظار دی وکړ شی! اوس فرمایی چه د مرګ په عدت کښی دی د څلورو میاشتو او لسو ورځو انتظار وباسی!. په دی موده کښی که دا خبره ښکاره شوه، چه هغه ښځه حامله نه ده، نو له بل چا سره د نکاح تړلو اجازه ورته شته. که نه وروسته د اولاد زیږولو (د حمل له وضعی) څخه ورته اجازه ده. د دی تشریح به د «الطلاق» په سورت کښی راشی. په حقیقت کښی دری حیضه یا د څلورو میاشتو او لسو ورځو انتظار د حمل د ښکاره کیدلو لپاره تاکلی (مقرر) شوی دی. (او د وینځی عدت د اصیلی نیمایی دی).

---

فَاِذَا بَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا فَعَلْنَ فِىٓ اَنْفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ؕ

---

نو کله چه ورسیږی دوی مودی د عدت خپل ته پس نشته هیڅ ګناه پر تاسی باندی په هغه کار کښی چه کوی ئی دا ښځی په (حق د) نفسونو خپلو کښی په ښه توګه (طور) (سم له شرعی اصولو) سره.

**تفسیر:** کله چه کونډی ښځی خپل عدت پوره کړی یعنی غیر حامله ښځه څلور میاشتی او لس ورځی، او حامله ښځه د اولاد تر راوړلو پوری معطله شوه، نو بیا دوی ته د شریعت له احکامو سره سم له بل چا سره د نکاح ترلو اجازه شته او نه پری ګناهګاریږی. زینت، عطر وهل او د خوشبویی استعمالول، تول ورته جائز دی.

---

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿٢٣٤﴾ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا عَرَّضْتُم بِهِ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَاءِ أَوْ أَكْنَنتُمْ فِي أَنفُسِكُمْ عَلِمَ اللّٰهُ أَنَّكُمْ سَتَذْكُرُونَهُنَّ وَلَٰكِن لَّا تُوَاعِدُوهُنَّ سِرًّا إِلَّا أَن تَقُولُوا قَوْلًا مَّعْرُوفًا وَلَا تَعْزِمُوا عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتَّىٰ يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ

---

او الله په هغو شیانو چه کوئ (یی) ښه خبردار دی (نو جزا به پری درکړی). او نشته هیڅ ګناه په تاسی باندی په هغه (کار) کښی چه اشاره کوئ تاسی په هغه سره چه غوښتل (د هغو) ښځو دی (چه په عدت کښی وی) یا (یی) پټ ساتئ په زړونو خپلو کښی معلوم دی الله ته چه بیشکه تاسی ژر به یاد کړئ په غوښتلو سره د نکاح دا ښځی ولیکن وعده مه کوئ! له دوی سره (د نکاح) په پټه مګر (هم دا) چه ووایئ تاسی ویل ښه! (نیک له شریعت او رواجه سره سم) او مه کوئ قصد (د ترلو) د غوټی د نکاح (د دوی) تر هغه پوری چه ورسیږی تاکلی (مقرر) عدت انتها د نیتی خپلی ته.

---

**تفسیر:** د دی آیت خلاصه دا ده کله چه ښځه د خپل میړه (خاوند) له نکاح څخنی جلا (جدا) شوه، نو تر هغه پوری چه د دی «عدت» پوره شوی نه دی. بل چاته دا خبره جائزه نه ده، چه له هغی سره خپله نکاح وتړی، یا صافه او ډانګ پیلی (واضحه) وعده له هغی څخنی واخلی، یا په ښکاره ډول (طریقه) سره پیغام ور ولیږی. لیکن که په زړه کښی نیت وکړی، چه وروسته له عدته به له هغی سره خپله نکاح وتړم. یا په اشاره سره خپل مطلب ورواوروی، چه بل څوک له ده نه وړاندی پیغام ور ونه لیږی، لکه چه هغی ښځی ته واوروی چه «ستا غونډی میرمنی قدر او عزت هر څوک ساتی. یا زه غواړم چه له کومی پتمنی (غیرتی) میرمنی سره خپله نکاح وتړم.» نو دی په هسی خبرو باندی هیڅ نه ګناهګاریږی. مګر صاف او ښکاره پیغام هیڅکله باید ور ونه لیږی.

وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ فَاحْذَرُوْهُ ۚ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿۲۳۵﴾

او پوه شئ تاسي! چه بیشکه الله معلوم دی ده ته هغه څه چه په زړونو ستاسي کښي دی نو وویریږئ! له ده نه (او د نامشروع شي قصد مه کوئ!) او پوه شئ تاسي! چه بیشکه الله ښه ښښونکی (د خطیئاتو) ډیر تحمل والا دی (د عقوبت په تاخیر له پاره د انابت)

**تفسیر:** یعني پاک الله ستاسي د زړونو له خبرو څخه ښه خبر دی ـ نو له ناروا ارادو څخه تل ځانونه ژغورئ (ساتی)!. او که چیری مو کومه ناجائزه اراده وکړه، نو ژر تر ژره له هغی څخه توبه وکړئ!. چه الله تعالیٰ لوی مغفرت کوونکی دی، او په دی خبری باندی نه ښایي چه سړی داډه او مطمئن شی، چه ولي پر هغه بل ګناهکار باندی څه عذاب مسلط شوی نه دی، ځکه چه پاک الله لوی حلیم دی. او په عقوبت او سزا کښي تلوار نه فرمایي.

لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ مَا لَمْ تَمَسُّوْهُنَّ اَوْ تَفْرِضُوْا لَهُنَّ فَرِيْضَةً ۚۖ وَّمَتِّعُوْهُنَّ ۚ عَلَى الْمُوْسِعِ قَدَرُهٗ وَ عَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهٗ ۚ مَتَاعًۢا بِالْمَعْرُوْفِ ۚ حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۲۳۶﴾

نشته هیڅ تکلیف (ګناه او مهر) په تاسي باندی که طلاقي کړئ تاسي ښځی (خپلی) تر څو چه صحیح خلوت مو نه وی کړی له دوی سره او مقرر کړی مو (نه) وی له پاره د دوی تاکلی (مقرر) مهر او څه خرڅ ورکړئ! دوی ته (واجب) دی پر غني (میره) باندی په اندازه (د توان) د ده او (شته) په فقیر (میره) په اندازه (د توان) د ده خرڅ چه په معروف (سم له اصولو) سره وی حق (لازم) دی په نیکي کوونکو (مسلمانانو) باندی.

**تفسیر:** که د نکاح ترلو په وخت کښي د مهر ذکر ونشو، او بی د مهر له ټاکلو (مقررولو) څخه نکاح وتړله شوه، نو دا نکاح صحیح او روا ده، او مهر به وروسته له نکاح څخه مقرریږی. لیکن په دی صورت کښي که پخوا له صحیحه خلوته او لاس ورغځولو او مجامعت څخه میره

(خاوند) طلاق ورکړی، نو څه مهر پرې نشته، خو په میړه (خاوند) باندې لازم دی چه له خپله طرفه هغې ښځې ته څه شی ورکړی هغه دا چه لږ تر لږه درې کالی (جامې)، کمیس پرتوګ او ټکری (څادر) دی سم له خپله حاله سره په ډیره خوښی او خوشالی سره ورکړی!.

---

وَإِنْ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ إِلَّا أَنْ يَعْفُونَ أَوْ يَعْفُوَا الَّذِي بِيَدِهِ عُقْدَةُ النِّكَاحِ وَأَنْ تَعْفُوا أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ وَلَا تَنْسَوُا الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ إِنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٢٣٧﴾

---

او که طلاقې کړئ تاسې دوی (یعنې ښځې) پخوا د مسه کولو د دوی (یعنې د ښځو) او په تحقیق سره ټاکلې (مقرر) ؤ له پاره د دوی مهر نو (لازم) دی (په تاسې باندې) نیمایي د هغه څه چه ټاکلی (مقرر) مو وی مګر که عفوه وکړی دا ښځې (چه تول میړه (خاوند) ته ورپرېږدی) یا عفوه وکړی هغه سړی (میړه) چه په لاس د ده کښې ده غوټه د نکاح (چه کامل مهر ورکړی) او دا چه عفوه وکړئ تاسې (ای ښځو او میړو (خاوندانو) دغه عفوه) ډیره نژدې ده پرهیزګارۍ ته او مه هیروئ تاسې فضل (احسان کول) پخپلو منځو کښې بیشکه چه الله پر هغه څه چه کوئ (یې تاسې ښه لیدونکی (په پټو او ښکاره ؤ عالم) دی.

---

**تفسیر:** که د نکاح په وخت کښې مهر مقرر شوی وی، او له لاس وروړلو څخه پخوا میړه (خاوند) خپلې ښځې ته طلاق ورکړی، نو نیمایی مهر پرې لازمیږی، مګر که هغه نارینه یا ښځه چه د نکاح د غوټې تینګول او پرانیستل د هغه په اختیار کښې دی، له خپل حقه تیر شی ښه دی. د ښځې ښیګڼه (فائده) دا ده چه هغه نیم مهر هم ورپرېږدی. او د نارینه ښیګڼه (فائده) دا ده چه همغه مقرر مهر پوره ورورسوی او که پوره مهر ئې رسولی وی، نو نیم دې ترې بیرته وانخلی، بلکه ټول مهر دې ورپرېږدی. بیا ئې وفرمایل «که نارینه ورتیر شی، نو له «تقوىٰ» سره ډیر وړ (لائق) او مناسب دی ځکه چه پاک الله نارینه ته لویی ورکړی ده، او د نکاح د ساتلو، او د طلاق ورکولو واکمن او مختار ئې ګرځولی دی». کله چه د نکاح په سبب په ده باندې ټول «مهر» لازمیږی، او اوس دې غواړی چه په لاس نه وروړلو او په طلاق ورکولو سره ځان د نیمایی مهر څخه خلاص کړی، نو دا کار له تقوىٰ سره مناسب نه دی، ځکه چه د ښځې له پلوه هیڅ

قصور نه دی شوی، او هر څه چه شوی دی، د نارینه له خوا شوی دی، نو بنا په دی نارینه لره ښایی چه له عفوی او میرانی (بهادری) څخنی کار واخلی.

**فائده:** د طلاق «مهر» د «وطی» په لحاظ څلور صورته لری

(۱): چه نه «مهر» تاکلی (مقرر) شوی وی، او نه «وطی» ته وار رسیدلی وی.

(۲): چه مهر تاکلی (مقرر) شوی وی خو «وطی» واقع شوی نه وی.

د دی دواړو صورتونو حکمونه له پورتنیو دوو آیتونو څخنی معلومیږی.

(۳): چه «مهر» مقرر شوی وی او «وطی» ته هم نوبت رسیدلی وی په دی صورت کښی همغه «مهر» چه مقرر شوی وی، پوره ورکاوه شی. دا خبره د کلام الله په بل یو آیت کښی راغلی ده.

(٤): چه «مهر» ئی نه وی تاکلی (مقرر) او له لاس وروړلو څخه وروسته طلاق ورکړی په دی تقدیر سره پوره «مهر مثل» لازمیږی یعنی هومره چه د هغی ښځی په تبر کښی د «مهر» دود (رواج) او دستور وی.

هم دا څلور صورتونه د میړه (خاوند) د مړ کیدلو په وخت کښی هم پیښیږی، مگر د مړینی حکم د طلاق له حکمه څخه مخالف دی. که «مهر» ئی ونه تاکه، او لاس ئی هم ورنه وړ، او مړ شو، یا ئی لاس وروړ، او بیا تری ،مړ شو، په دی دواړو صورتونو کښی «مهر مثل» پری لازمیږی او که ئی «مهر» مقرر کړی، او لاس ئی وروړ، یا ئی ورنه ووړ، په دی دواړو صورتونو کښی همغه «مهر» چه مقرر شوی دی، ښایی چه پوره ورکړ شی!.

---

## حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى وَقُوْمُوا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ ﴿٢٣٨﴾

---

ساتنه کوئ تاسی! پر (ټولو) لمونځونو باندی او (خصوصاً) په لمانځه منځنی باندی (چه مازدیگر دی) او ودریږئ تاسی! الله ته ویریدونکی (په ادب سره)

---

**تفسیر:** له منځنی لمانځه څخنی مراد د مازدیگر لمونځ دی، چه د شپی او ورځی په منځ کښی دی. د دی لمانځه تاکید ئی ځکه زیاد وفرمایه، چه په دی وخت کښی دنیوی مشاغل او کارونه ډیر پیښیږی. او وبی فرمایل چه ودریږئ په ادب سره! یعنی په لمانځه کښی هسی کوم حرکت ونه کړئ! چه له هغه څخه داسی څرگند شی، چه گواکی تاسی لمونځ نه کوئ یا مو لمونځ پری مات شی، لکه خوړل او څښل یا له چاسره خبری کول یا خندل یا ئی د ټولو حقوقو ساتنه کوئ لکه طهارت، آذان، اقامت، جمع او جماعت، د نیت خلوص، حضور، خشوع، خضوع، طمانیت، فرائض، واجبات، سنن او مستحبات.

**فائده:** د طلاق په حکمونو کښی د لمانځه د حکم بیانول یا دا وجه لری چه نه ښایی دنیوی معاملی او یو له بله جګړی تاسی د پاک الله له یاده غافل کړی. یا ئی دا وجه ده د هوا او هوس بندگانو ته د حرص او بخل د غلبی لامله (له وجی) د عدل پوره کول، او له انصافه څخه

کار اخيستل، او بيا هغه هم د رنځ او د طلاق په حالت کښي، ډير سخت او درانه دي. بيا په داسي صورت کښي چه د﴿ وَأَن تَعْفُوٓا ﴾ او د ﴿ وَلَا تَنسَوُا الْفَضْلَ ﴾ رعايت هم پکښي وشي، له هغوی ځني د هسي تعميل توقع او هيله (اميد) لرل، بيخي مستبعد او لري په نظر راځي، نو چاره ئي داسي وفرمايله چه د لمانځه محافظت او د هغه ساتنه او تل ادا کول او د هغه د تولو حقوقو او شرايطو رعايت، د هغو عمده علاج دی ځکه چه لمونځ د فضائلو په تحصيل او د رذائلو په ازاله کښي لوی اثر لري!

فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا ۖ فَإِذَا أَمِنتُمْ فَاذْكُرُوا اللَّهَ كَمَا عَلَّمَكُم مَّا لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ ﴿٢٣٩﴾

نو که ويريدئ تاسي (له دښمنه يا له بل شي نه) نو (لمونځ کوئ تاسي!) په پلی (پياده) تګ يا په سورلی سره نو کله چه په امن شئ تاسي نو يادوئ تاسي! الله لکه چه ښوولی ئی دی تاسي ته هغه څه چه نه وئ تاسي چه (پری) پوهيدئ!.

**تفسير:** يعني د جنګ او د دښمن د ويری په وخت کښي له مجبوريته په سورلی او په پلی (پياده) تګ کښي هم په اشاره سره لمونځ کول روا دی. اګر که د هسي لمونځ کوونکی مخ د قبلي په لوری هم نه وی.

وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا وَصِيَّةً لِّأَزْوَاجِهِم مَّتَاعًا إِلَى الْحَوْلِ غَيْرَ إِخْرَاجٍ ۚ

او هغه کسان چه مره شي له تاسي نه او پريږدی دوی (خپلی) ښځی (لازم دی پر دوی باندی چه) وصيت دی وکړی دپاره د ښځو خپلو د خرڅ ورکولو تر يوه کاله پوری بی له ايستلو (له خپلو کورونو څخه)

**تفسير:** دا حکم پخواني دی. کله چه د ميراث احکام نازل شول، او د ښځو برخی څرګندی شوی، او د ښځی د «عدت» موده څلور مياشتي او لس ورځی وټاکلی (مقرر) شوی، نو وروسته له هغه د دی آيت حکم منسوخ شو.

فَإِنْ خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِي مَا فَعَلْنَ فِي أَنْفُسِهِنَّ مِنْ مَعْرُوفٍ ۗ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٤٠﴾

نو که پخپله ووتلې (دا ښځې له خپلو کورونو څخه) نو نشته هيڅ ګناه (او نفقه او مسکن) په تاسې باندې په هغه شي کښې چه کوي ئې دوی په خپلو ځانو کښې له معروفه (له ښو کارونو چه پاکې او زينت دی او الله ډير غالب (قوي په انفاذ د احکامو) ښه حکمت والا دی (چه هر کار په حکمت او مصلحت سره کوي)

**تفسیر:** يعني که هغه ښځه پخپله خوښه سره د کال له ختميدلو څخه پخوا له کوره ووځي، نو ای وارثانو! په دې کار کښې چه ښځې ئې سم له شريعته سره د خپلو ځانو له پاره وکړي، پر تاسې باندې هيڅ ګناه او وبال نشته. يعني که وغواړي چه ميره (خاوند) وکړي ـ يا ښه کالي (کپړې) واغوندې، او عطر استعمال کړي، په دې کښې په دوی باندې هيڅ يو حرج نشته.

وَلِلْمُطَلَّقَاتِ مَتَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ ﴿٢٤١﴾

او شته طلاقې کړې شويو ښځو ته خرڅ ورکول په معروفې (نيکې طريقې) سره . چه مقرر لازم کړې شوی دی پر پرهيزګارانو باندې.

**تفسیر:** پخوا له دې نه د خرڅ يعني د کاليو (جامو) ورکولو حکم د هغه طلاق په نسبت راغلی ؤ، چه نه «مهر» تاکلی (مقرر) شوی وی، او نه ميره (خاوند) لاس وروړی اوس په دې آيت کښې هم دغه حکم د نورو له پاره هم صادر شو. مګر دومره فرق شته چه تولو طلاق ورکړې شويو لره کالي (جامې) ورکول، يواځې مستحب دي، او کوم ضروري امر نه دی. او په ړومبی صورت کښې ضرور دی.

كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٢٤٢﴾

هم داسې (لکه چه دا احکام ئې بيان کړل) بيانوي الله تاسې ته آيتونه (احکام) خپل له پاره د دې چه تاسې وپوهيږئ! (او شرعي احکامو ته عقل متوجه کړئ!).

**تفسیر:** یعنی څرنګه چه الله تعالیٰ دلته د نکاح ـ طلاق او عدت احکام بیانوی، هم دا راز (قسم) خپل احکام او آیتونه واضح فرمایی څو چه پری وپوهیږئ! او عمل پری وکړئ! دلته د نکاح او طلاق احکام پای (انتها) ته ورسیدل.

---

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ خَرَجُوا مِن دِيَارِهِمْ وَهُمْ أُلُوفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ فَقَالَ لَهُمُ اللَّهُ مُوتُوا ثُمَّ أَحْيَاهُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ ﴿۲۴۳﴾

---

آیا نه ده لیدلی تا (یعنی نه دی رسیدلی علم ستا ای عبرت اخیستونکیه! قصی د) هغو کسانو ته چه وتلی وو له کورونو خپلو نه حال دا چه دوی په زرګونو و له ویری د مرګه پس وفرمایل دوی ته الله چه مړه شئ (پس مړه شول) بیا ئی ژوندی کړل دوی بیشکه الله خامخا څیښتن (خاوند) د فضل (مهربانی) دی په خلقو باندی ولیکن ډیر د خلقو شکر نه باسی. (لکه چه ښایی او پند تری نه اخلی).

---

**تفسیر:** دا د یوه پخوانی امت قصه ده چه څو زره سړی د خپلو کورنیو سره له خپل هیواد (علاقه) څخه د دی له امله (وجی) وتښتیدل چه له دښمن څخنی ویریدل او له جنګ څخه ئی خپل ځانونه ګوښه (جدا) کول. یا له وبا څخنی ویریدل او په تقدیر او توکل باندی ئی یقین او باور نه ؤ. بیا کله چه دوی یوه مزله ته ورسیدل، د الله تعالیٰ په حکم ټول سره مړه شول، او وروسته له اوو ورځو د خپل نبی علیه السلام په دعا او غوښتنه سره بیرته ژوندی شول، چه له خپلو پخوانیو ګناهونو څخنی توبه وکړی او وروسته له دی نه په ښو کارونو مشغول شی. د دی پیښی قصه دلته ځکه فرمایی چه د کافرانو له «جهاد» یا د فی سبیل الله له خرڅه د مال او د ځانو د مینی او محبت له سببه نه ښایی چه سړی مخ واړوی. او ودی پوهیږی چه که الله تعالیٰ حکم وکړی نو له هغه څخنی د ژغورنی (ساتنی) هیڅ یو صورت او چاره نشته. او که د ژوندون اراده وفرمایی نو مړی په یوه سلګی کښی بیا ژوندی کولی شی. له مرګ څخه د ژوندیو ژغورنه (ساتنه) کومه لویه خبره نه ده، نو بیا د هغه د حکم په تعمیل کښی له مرګ څخنی ویریدل او له «جهاد» څخنی ځان ایستل یا د افلاس له ویری له خیراتونو او صدقاتو څخنی لاس نیول او پر نورو باندی د احسان او فضل او عفوی ورونه تړل برسیره په بدنیتی، پوره ناپوهی او حماقت هم دی.

وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللّٰهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٤٤﴾ مَنْ ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَاعِفَهُ لَهُ أَضْعَافًا كَثِيرَةً وَاللّٰهُ يَقْبِضُ وَيَبْسُطُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢٤٥﴾

او جنگ کوئ (ای مؤمنانو!) په لاره د الله کښې (د دين د ترقی له پاره) او پوه شئ تاسی! چه بيشکه الله ښه اوريدونکی (د تولو اقوالو) ښه عالم (په تولو احوالو) دی. څوک دی هغه سړی چه قرض ورکوی الله لره قرض نيک (د زړه له اخلاصه د الله په لاره کښې په صرفولو سره) نو زيات به کړی الله (ثواب د) قرض ده لره په زياتوالی ډير او الله تنگوی (رزق) او فراخوی (رزق) او هم (خاص) بيا به ده ته بيولی کيږئ! (د اعمالو د جزا له پاره).

**تفسير:** يعنی کله چه دا خبره ښکاره شوه چه ستاسی ځان او مال د پاک الله په حکم کښې دی، نو اوس تاسی ته ښايی چه د الله تعالیٰ د دين له پاره د کافرانو سره جنگ وکړئ! او وپوهيږئ! چه پاک الله تول شيان گوری، او د پلمو (تدبيرونو) او بهانو کوونکو او د نورو تولی خبری اوری او پری پوهيږی. او ښايی چه د الله تعالیٰ په لاره کښې مال صرف کړئ! او له تنگسی او فقيری څخه هيڅ انديښنه ونه لرئ! او وپوهيږئ! چه تنگسه او پراخی او نور شيان تول د پاک الله په واک او اختيار کښې دی. او د تولو مرجع او ورتگ د ده په لوری دی. «قرض حسنه» هغه پور (قرض) ته وايی چه له ورکولو څخه وروسته د هغه دبيرته اخيستلو زياته تقاضا ونه کړای شی او پور (قرض) ورکوونکی په پوروړی باندی خپل منت او احسان کښينږدی. او عوض او بدل ئی ونه غواړی، او هغه ته په سپکه سترگه ونه گوری. او الله تعالیٰ ته د مال ورکولو څخنی دا مراد دی چه سړی د «جهاد» او غزا په لاره کښې خپل مال صرف کړی. او په اخلاص ئی وښندی (وکړی). يا ئی محتاجانو ته ورکړی.

أَلَمْ تَرَ إِلَى الْمَلَإِ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ مِنْ بَعْدِ مُوسَىٰ

آيا نه دی ليدلی تا (يعنی نه دی رسيدلی علم ستا ای عبرت اخيستونکيه! قصی د) ډلی ته له بنی اسرائيلو (اولادی د يعقوبه څخنی). وروسته له موسیٰ نه.

**تفسير:** له دی قصی څخه د حق تعالیٰ هغه قبض او بسط ښه ثابتيږی، چه ذکر ئی پخوا له دی نه وشو، يعنی فقير ته باچايی ورکوی، او له باچايانو څخنی باچايی اخلی. ضعيف قوی گرځوی،

او قوی ضعیف.

إِذْ قَالُوا لِنَبِيٍّ لَّهُمُ ابْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُّقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۖ قَالَ هَلْ عَسَيْتُمْ إِن كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ أَلَّا تُقَاتِلُوا ۖ قَالُوا وَمَا لَنَا أَلَّا نُقَاتِلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَقَدْ أُخْرِجْنَا مِن دِيَارِنَا وَأَبْنَائِنَا ۖ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ تَوَلَّوْا إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ ﴿٢٤٦﴾

کله چه وویل دوی یوه نبی ته (چه راغلی ؤ) دوی ته چه مقرر کړه مونږ ته یو باچا چه جنګ وکړو (مونږ په تدبیر او اتفاق د هغه) په لاره د الله کښې، (نو) وویل (نبی) آیا نژدی ده چه تاسی (یعنی توقع شته) که فرض کړی شی په تاسو باندی جنګ چه ونه کړئ جنګ (بلکه دا توقع شته) وویل دوی څه (مانع) دی مونږ لره چه وبه نه کړو جنګ په لاره د الله کښې؟ حال دا چه په تحقیق سره ایستلی شوی یو مونږ له کورونو خپلو او له ځامنو خپلو (په ظلم سره او دا سبب د جنګ دی) نو کله چه فرض کړی شو په دوی جنګ نو وګرځیدل دوی (تول له جنګه) مګر (ونه ګرځیدل) لږ له دوی نه او الله ښه عالم دی په ظالمانو باندی (نو جزا ورکوی دوی ته).

**تفسیر:** له حضرت موسٰی علیه السلام څخه وروسته تر یوی مودی پوری د بنی اسرائیلو چاری ښی وی، بیا کله چه د دوی نیتونه خراب شول، نو پر دوی باندی یو غلیم (ظالم) کافر باچا چه جالوت نومیده، مسلط شو، دوی ئی له ښاره وویستل، او د دوی کورونه ئی لوټ او تاراج کړل، او مریان ئی وګرځول، بنی اسرائیل وتښتیدل. او په بیت المقدس کښی سره تول شول. په دی وخت کښی حضرت اشموئیل علیه السلام نبی ؤ، دوی له هغه څخه وغوښتل، چه یو باچا مونږ ته مقرر کړه! چه مونږ د هغه په ښوونه او ملګرتیا سره فی سبیل الله «جهاد» وکړو.

وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ اللَّهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوتَ مَلِكًا ۚ قَالُوا أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ أَحَقُّ بِالْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِّنَ الْمَالِ ۚ

قَالَ إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَاهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ ۖ وَاللَّهُ يُؤْتِي مُلْكَهُ مَنْ يَشَاءُ ۚ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٤٧﴾

او وویل دوی ته نبی د دوی چه بیشکه الله په تحقیق سره مقرر کړی دی تاسی ته طالوت باچا وویل دوی (یعنی بنی اسرائیلو) چه ځرنګه به وی ده لره (یعنی طالوت لره) باچاهی پر مونږ باندی؟ حال دا چه مونږ ډیر مستحق یو په باچاییی سره له ده نه او نه ده ورکړی شوی ( ده ته) پراخی له مال څخه وویل (نبی) چه بیشکه الله غوره کړی دی دا طالوت په تاسی باندی او زیات کړی ئی دی هغه له جهته د پراخی په علم او (په) جسم کښی او الله ورکوی ملک (سلطنت) خپل هر چاته چه اراده کړی (د ورکولو یی) او الله پراخ دی (احسان، فضل رحمت د ده) ښه عالم دی (په استعداد او مراتب د هر چا)

**تفسیر:** پښوا له دی نه د طالوت په قوم او ټبر کښی سلطنت نه ؤ. دی یو خوار او غریب کار سړی ؤ او د بنی اسرائیلو په نزد د سلطنت وړ او لایق نه ؤ او د مال او شتو له امله (وجی) دوی هر یوه خپل ځان د سلطنت او حکومت وړ (لائق) باله. اشموئیل علیه السلام وفرمایل چه «سلطنت د هیچا حق نه دی. او د سلطنت لوی لیاقت د علم په وسعت او بدن په قدرت پوری تړلی دی، چه په دی کښی طالوت له تاسو څخنی ښه او غوره دی.»

**فائده:** کله چه بنی اسرائیلو دا خبره واوریده نو خپل نبی اشموئیل علیه السلام ته ئی وویل چه «پرته (علاوه) له دی نه بل کوم دلیل د ده په سلطنت باندی مونږ ته راوښیه! چه زمونږ په زړونو کښی هیڅ یوه اندیښنه پاتی نشی.» اشموئیل علیه السلام دعا وکړه او د الله تعالیٰ له لوری ئی د طالوت د باچاییی نور علایم هم ورروښودل.

وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ آيَةَ مُلْكِهِ أَنْ يَأْتِيَكُمُ التَّابُوتُ فِيهِ سَكِينَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَبَقِيَّةٌ مِمَّا تَرَكَ آلُ مُوسَىٰ وَآلُ هَارُونَ تَحْمِلُهُ الْمَلَائِكَةُ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿٢٤٨﴾

او وویل دوی ته (د یعقوب اولادی ته) نبی د دوی چه بیشکه علامه د پاچاییی د ده (د طالوت) دا ده چه رابه شی تاسی ته (یو) صندوق «چه وی به» په

هغه کښې آرام د زړه له (طرفه د) رب ستاسي او باقي پاتي شوي له هغه شيانو چه پريښي وو اولادي د موسٰی او اولادي د هارون حال دا چه بار کړي به وي هغه (صندوق) پرښتو، بيشکه چه په دي (راتلو د دي صندوق) کښې خامخا علامه ده (په باچايي د طالوت) تاسي ته که چيري يئ تاسي مؤمنان (يقين لرونکي ـ نو ويي منئ!)

**تفسير:** په بني اسرائيلو کښې له پخوا زمانو راهيسي يو صندوق موجود ؤ چه د هغه په منځ کښې به د حضرت موسٰی او هارون او نورو انبياؤ عليهم السلام ځيني تبرکات وو. بني اسرائيلو به تل په جنگونو کښې دا صندوق لکه زمونږ علم شريف د لښکرو په مخ کښې وړل او د هغه په برکت به د الله تعالٰی په فضل فتح او بري د دوي په برخه کيده، کله چه جالوت بري وموند، نو دا صندوق ئي هم له دوي ځني واخيست، خو ځرنگه چه د الله تعالٰی اراده داسي وه، چه هغه صندوق بيرته بني اسرائيلو ته ورکړي، نو داسي وشوه چه دي کافر به دا صندوق په هر ښار کښې چه کيښود هلته به هر راز (قسم) وباوي (وباگاني) او بلاوي ځرگنديدي، لکه چه په دي منځ کښې پنځه ښارونه وران او ويجاړ شول. تر څو چه جالوت ناچاره شو او دا صندوق ئي پر دوو غويو باندي بار کړ او هغه ئي سر په بيديا وشړل د الله تعالٰی په اراده پرښتو هغه غوايي د طالوت تر ور پوري ورسول يا خو دا صندوق ملائکو واخيست او آسمان ته ئي پورته کړو، او بيرته ئي راکوز کړ او د طالوت په مخ کښې ئي په داسي حال کښې کيښود، چه بني اسرائيلو ورته کتل بني اسرائيلو د دي علامو په ليدلو د طالوت په باچايي باندي باور وکړ. او په نتيجه کښې طالوت د جالوت پر لښکر باندي سره له خپل فوځه حمله او يرغل وړوړ خو په دي وخت کښې موسم خورا گرم ؤ او تودوخې (گرمي) ډيره زياته وه.

فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوتُ بِالْجُنُودِ قَالَ إِنَّ اللَّهَ مُبْتَلِيكُم بِنَهَرٍ
فَمَن شَرِبَ مِنْهُ فَلَيْسَ مِنِّي وَمَن لَّمْ يَطْعَمْهُ فَإِنَّهُ مِنِّي إِلَّا مَنِ
اغْتَرَفَ غُرْفَةً بِيَدِهِ ۚ فَشَرِبُوا مِنْهُ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ۚ فَلَمَّا جَاوَزَهُ
هُوَ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ قَالُوا لَا طَاقَةَ لَنَا الْيَوْمَ بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ ۚ
قَالَ الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَاقُو اللَّهِ كَم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ
غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ ﴿٢٤٩﴾

نو کله چه راووت طالوت سره د لښکرو (نو) وویل طالوت چه بیشکه الله ازمویونکی ستاسی دی په یوه ویاله (نهر) سره نو هر هغه څوک چه (اوبه) وڅښی له هغی ویالی (نهر) څخه نو نه دی له (تابعانو) زما، او هر هغه څوک چه ونه څکی دا (اوبه) نو بیشکه دی له (تابعانو) زما دی مګر (خو له تابعانو) زما دی) هغه څوک چه اخلی یو ورغوی اوبه په لاس خپل سره نو ویی څښلې دوی (اوبه) له هغی (ویالی - تولو) مګر (ونه څښلی زیات له یوه ورغوی نه) لږو له دوی نه نو کله چه تیر شو له هغه ویالی نه دی (یعنی طالوت) او هغه کسان چه ایمان لرونکی ؤ (تیر شول) له ده سره وویل دوی (متخلفینو) (وروستو پاتی کیدونکو) چه نشته طاقت مونږ لره نن ورځ له جالوت سره او لښکرو د ده سره (د جنګ کولو) وویل هغو کسانو چه یقین ئی ؤ (په دی) چه بیشکه دوی ورتلونکی دی الله ته. ډیر (کرته) له لږو ډلو (د مؤمنانو) غلبه کړی وه په ډلی ډیری (د کفارو سرکښانو) په اذن (حکم) د الله سره. او الله سره له صابرانو دی (په نصرت او اثابت)

---

**تفسیر:** خلق له هوسه، د طالوت سره د تللو او حرکت په نیت تول سره تیار شول. طالوت وویل «یوازی هغه ځلمیان دی له ما سره ملګری شی چه متوکلان پیاوړی (غیرتمن)، زحمت کښ، قوی او زړور وی» د دغو شرائطو سره سم (۸۰۰۰۰) ځلمیان له ده سره ووتل، بیا طالوت وغوښتل، چه دوی وازمویی په لومړی مزل کښی اوبه نه وی خو کله چه په دوهم مزل د اوبو ویالی ته ورسیدل، نو طالوت حکم وکړ «هغه ځلمی مجاهد چه له یوه ورغوی (لپه) څخه زیاتی اوبه ونه څښی، هغه دی له ماسره ځی! او هغه سړی چه له یوه ورغوی (لپه) څخه زیاتی اوبه وڅښی، له ما سره دی نه درومی!» په نتیجه کښی له دوی څخه یوازی (۳۱۳) تنه ځلمیان پاتی شول، او نورو ډیری اوبه وڅښلی او جلا (جدا) شول، هغه ځلمیان چه له یوه ورغوی څخه ئی زیاتی اوبه نه وی څښلی، د هغوی تندی بیخی ماتی شوی، خو د هغوکسانو چه زیاتی اوبه ئی څښلی وی، د هغو تندی لا پسی زیاتیدی، او د وړاندی تللو توان ئی نه درلود (لرلو) .

---

وَلَمَّا بَرَزُوا لِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ قَالُوا رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَثَبِّتْ
أَقْدَامَنَا وَانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ ﴿٢٥٠﴾ فَهَزَمُوهُم بِإِذْنِ اللَّهِ
وَقَتَلَ دَاوُودُ جَالُوتَ وَآتَاهُ اللَّهُ الْمُلْكَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَهُ مِمَّا

يَشَآءُ وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ الْاَرْضُ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۵۱﴾

او کله چه راووتل (مخامخ شول) دوی لپاره (د جنګ) د جالوت او د لښکرو د ده نو ویل دوی (یعنی مؤمنانو) ای زموږ ربه نازل (راتوی) کړه پر موږ صبر او کلک کړه قدمونه زموږ (په جنګ کښې) او مرسته (مدد) وکړه له موږ سره! په قوم د کافرانو. مات کړل مؤمنانو دوی (یعنی کافران) په اذن (حکم د الله سره او مړ کړ داؤد جالوت لره او ورکړ ده ته (یعنی داؤد ته) الله سلطنت او حکمت (او نبوت وروسته له مرګه د طالوت او اشموئیل، علیه السلام) او ویې ښودل ده ته له هغو شیانو چه اراده ئې کوله او که چیرې نه وی دفع (منع) کول د الله خلقو لره ځینو د دوی لره په ځینو نورو سره (نو) خامخا به خرابه شوی وه ځمکه (هیواد په ظلم سره) ولیکن الله څیښتن (خاوند) د فضل (احسان) دی په خلقو باندی (نو ځینی په ځینو نورو سره له فساد څخه منع کوی).

**تفسیر:** کله چه د جالوت سره مخامخ شول. یعنی همغه (۳۱۳) تنه سری چه په دوی کښې د حضرت داؤد علیه السلام پلار (الشیٔ) او د ده شپږ ورونه او په خپله داؤد، علیه السلام هم ؤ. او په لاره کښې دری تیږو (ګټو) پر داؤد، علیه السلام باندی غږ وکړ چه «موږ دری سره واخله! چه موږ دری واړه د جالوت په ککره باندی لګیدونکی، او د هغه وژونکی یو» نو ده واخیستی هر کله چه دواړه فوځونه سره مخامخ شول، پخپله جالوت راووت، او ویې ویل چه «زه یوازی ستاسی د جګړی له پاره بس یم، او تول به مات او مغلوب کړم یو یو ما ته راتیر شی حضرت اشموئیل، علیه السلام د داؤد، علیه السلام پلار ووغوښت، او ورته ئې وویل چه خپل تول ځامن دی ماته راوښیه! ده خپل شپږ واړه هلکان چه ډیر جګ، پیاوړی (غیرتمند) او قوی ځلمیان ؤ وروښودل او حضرت داؤد، علیه السلام ئې ورسره مخامخ نه کړ، ځکه چه هغه یو تیتکی او غوندکی (چیت) شپون ؤ، او پسونه (ګدان) ئې څرول. اشموئیل، علیه السلام هغه هم راوغوښت، او ورته ئې وویل چه «ته جالوت وژلی شی؟»». داؤد علیه السلام وویل هو! بیا د جالوت مخی ته ورووت، او همغه دری واړه تیږی (ګټی) ئې په میچینوغزی (مچنوغی) کښې کیښودی او جالوت ئې په تندی داسی پری وویشت، چه له څټه ئې دری واړه د باندی ووتلی، ځکه چه د جالوت نور تول وجود په اوسپنه کښې پټ ؤ. د جالوت لښکر وتښتید، او مسلمانان بریالی (فتح مند) شول. بیا طالوت خپله لور داؤد علیه السلام ته واده کړه، او وروسته له طالوت نه هم ده داؤد، علیه السلام تولواک (باچا) شو. دی په عین تولواکی (باچاهی) کښې نبی هم ؤ، او اوسپنه ئې په لاس

لکه موم گرځولی شوی وه. ډیری ښکلی څخری ئی جوړولی. د مرغانو په خبرو باندی هم پوهیده. او د نورو ستاینو (صفتونو) او مناقبو خاوند هم ؤ علیه وعلیٰ نبینا الصلوٰة والسلام. له دی څخه دا راښکاره شوه چه د «جهاد» حکم له پخوانیو پیریو راهیسی جاری دی. او په «جهاد» کولو کښی د الله تعالیٰ لوی رحمت او احسان دی خو ناپوهان وایی چه جنګ او «جهاد» کول د انبیاؤ کار نه دی.

---

تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ۭ وَاِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۲۵۲﴾

---

دا چه (تیر شول) آیتونه (دلائل د قدرت) د الله دی چه مونږ ئی لولو پر تا باندی (ای محمده!) په حقه سره او بیشکه ته چه ئی (ای محمده!) هرومرو (خامخا) (زمونږ) له مرسلانو څخه یی.

---

**تفسیر:** دا د بنی اسرائیلو قصه وه، چه تیره شوه یعنی د زرهاؤ سریو وتل، او د هغوی ناڅاپه مړه کیدل او ژوندی کیدل. او د طالوت تولواکی او باچا کیدل دا ټول د الله تعالیٰ د قدرت علامی دی، چه تاته اورولی کیږی، او ته ای محمده صلی الله علیه وسلم بیشکه د الله تعالیٰ له رسولانو (استاځیو) څخه یی! یعنی همغسی چه پخوا له تا څخه مرسلان مبعوث شوی دی، ته هم د هغوی په شان په حقه او یقین سره مرسل یی! چه د پخوانیو زمانو قصی په خورا (ډیر) ښه دول (طریقه) او حقه بیانوی! حال دا چه دا خبری تا نه په کوم کتاب کښی لیدلی دی! او نه دی له چا څخنی اوریدلی دی.

تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ مِنْهُمْ مَّنْ كَلَّمَ اللّٰهُ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجٰتٍ وَاٰتَيْنَا عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنٰتِ وَاَيَّدْنٰهُ بِرُوْحِ الْقُدُسِ

دا تول رسولان (چه له آدم تر محمده پورې یاد شول) فضیلت ورکړی دی مونږ ځینې د دوی ته پر ځینو نورو ځینې له دوی څخه هغه دی چه کلام کړی د الله ( له دوی سره چه آدم، موسیٰ او محمد دی) او پورته کړی ئی دی ځینو د دوی ته درجې (لکه محمد) او ورکړی دی مونږ عیسیٰ ځوی د مریمې ته ښکاره معجزې او قوی کړی دی مونږ هغه په روح القدس (جبریل یا انجیل یا اسم اعظم یا عیسوی روح) سره

**تفسیر:** دی رسولانو ته چه ذکر ئی وشو، مونږ فضیلت ورکړی دی، ځینو ته پر ځینو نورو باندی (د رسالت نه برسیره په نورو صفاتو سره) ځنې په دوی کښې داسې دی چه الله جل جلاله له هغوی سره کلام کړی دی. لکه آدم، موسیٰ او محمد علیهم السلام. ځینې د ګرد (تول) جهان له پاره تاکلی (مقرر) شوی دی لکه زمونږ رسول الله محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم چه په دغه شرف سره مخصوص او مبعوث شوی دی او د ځینو درجې یې لوړې کړی دی لکه چه ځینې د یوه کلی او ځینې د یو ښار او ځینې د یوه قوم دپاره مقرر شوی دی او حضرت عیسیٰ علیه السلام ته ښکاره معجزې ورعنایت شوی دی لکه مړی ژوندی کول د اکمه ډ (مادرزاد ړاندو) ابرصه ډ (برګو) او نورو روغول او مرسته (مدد) ورکړه مونږ هغه ته په پاک روح سره یعنی حضرت جبریل علیه السلام مو د هغه د مرستی (مدد) له پاره ولیږه.

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا اقْتَتَلَ الَّذِيْنَ مِنْ بَعْدِهِمْ مِّنْ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ وَلٰكِنِ اخْتَلَفُوْا فَمِنْهُمْ مَّنْ اٰمَنَ وَمِنْهُمْ مَّنْ كَفَرَ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا اقْتَتَلُوْا وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ ﴿۲۵۳﴾

او که اراده کړی وی الله (د تولو خلقو د هدایت) نو نه به ډ کړی جنګ

(اواختلاف) هغو کسانو چه وروسته له دی رسولانو څخه وو (د دوی له امتونو څخه) وروسته له هغه څخه چه راغلی دوی ته ښکاره معجزی ولیکن دوی اختلاف (او جګړی) سره وکړی نو ځینی له دوی څخه هغه څوک دی چه ثابت پاتی شوی دی په ایمان او ځینی له دوی څخه هغه څوک دی چه کافران شول، او که اراده کړی وی الله (د دوی د هدایت) نو دوی به نه ؤ کړی (مخالفت او) مجادله ولیکن الله کوی هغه کار چه اراده لری (د چا د هدایت او ضلالت)

---

**تفسیر:** هغه خلق چه په دی انبیاؤ باندی ئی ایمان راوړی دی، او زمونږ د رسول صلی الله علیه وسلم د نبوت، صافی او روښی (واضحه) علامی او حکمتونه ئی لیدلی او اوریدلی دی، که پاک الله اراده کړی وی، نو دوی به په خپلو منځو کښی نه سره جنګیدل، او یو له بله سره به ئی مخالفت نه کاوه او ځینی به د دوی له منځه مؤمنان او ځینی به د انبیاؤ په مخالفت سره کافران نه کیدل، لیکن حق تعالیٰ مختار دی د هر څه اراده چه وکړی، همغه کوی. هیڅ یو کار د هغه له حکمت څخه خالی نه دی. او په تدبیر او مصلحت باندی بنا دی.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنفِقُواْ مِمَّا رَزَقۡنَٰكُم مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ يَوۡمٞ لَّا بَيۡعٞ فِيهِ وَلَا خُلَّةٞ وَلَا شَفَٰعَةٞۗ

---

ای هغو کسانو! چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو) صرف کړئ (په زکوة یا په جهاد یا په نورو واجبی صدقاتو کښی) ځینی له هغو مالونو څخه چه درکړی دی مونږ تاسی ته پخوا د راتلو د هغی ورځی نه چه نه پیرودل (اخیستل) او نه پلورل (خرڅول) پکښی شته (چه سړی مال پیدا کړی بیا پری خپل ځان له عذابه خلاص کړی) او نه دوستی او نه شفاعت (او نه بی له اذنه د الله سپارښت پکښی شته)

---

**تفسیر:** په دی سورت کښی د عباداتو او معاملاتو په نسبت زیات احکام بیان شوی دی، چه د هغو ګردو (تولو) تعمیل په نفس باندی دروند او سخت دی. او د انسان له پاره له ګردو (تولو) اعمالو څخنی خورا (ډیر) دروند عمل په ځان او مال سره (جهاد) کول، او د پاک الله په لاره کښی د هغو جارول (قربانول) دی. او د الله جل جلاله زیاتره حکمونه یا د ځان په نسبت وی، یا د مال په نسبت، هو! ډیر ځلی بندګان د ځان یا مال په مینه او رعایت سره په ګناه کښی اخته کیږی. ګواکی د هم دی دوو شیانو بی مورده مینه د ګناهونو اصل او بنسټ (بنیاد)

دی، او له هغوی ځنی نجات او ژغورنه (ساتنه) د ګردو (تولو) عباداتو د سهولت اساس او منشاء ده، نو ځکه ئی د هغو ګردو (تولو) بدنی او مالی حکمونو له بیان فرمایلو ځنی وروسته، د «قتال» او د «انفاق» بیان وفرمایه، چه یو له بل سره ډیر مناسبت لری.
﴿ وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ ﴾ الآیة - د ړومبنی بیان ؤ- او ﴿ مَنْ ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ ﴾ الآیة - د وروستنی بیان شو. پس له هغه ئی د (طالوت) قصه د همغه ړومبنی آیت د تاکید دپاره وفرمایله او ﴿ أَنْفِقُوا مِمَّا رَزَقْنَاكُمْ ﴾ د وروستنی تاکید دی. څرنګه چه د مال پر «انفاق» د عباداتو او معاملاتو زیات امور موقوف دی، نو د هغه په بیان کښی ئی زیات تفصیل او تاکید وفرمایه، لکه چه اوس کومه رکوع چه راځی په هغی کښی زیاتره د وروستنی امر یعنی د مال د (انفاق) ذکر شته. د معنی خلاصه دا ده چه «د عمل کولو وخت هم دا دی په آخرت کښی نه عمل پلورل (اخیستل) کیږی، او نه په خپلوی، دوستی، او آشنائی سره په لاس راځی او نه په سپارښت سره څوک ځان خلاصولی شی تر څو ئی چه پاک الله پری نه ږدی، چه د هغه نیوونکی دی یا د ده په نسبت د شفاعت امر ونه کری.»

---

وَالْكَافِرُونَ هُمُ الظَّالِمُونَ ﴿٢٥٤﴾

---

او کافران هم دوی دی ظالمان (نو ای مؤمنانو تاسی د دوی په شان مه کیږئ!)

---

**تفسیر:** یعنی په خپله کفارو په خپلو ځانونو باندی ظلم وکړ. چه د هغه له شأمته، په سختو عذابونو ککړ شول، چه په آخرت کښی نه د چا دوستی او خپلوی دوی ته ګټه او نفع رسولی شی، او نه ئی سپارښت په ښه ورتلی شی.

---

اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ

---

الله (چه دی) نشته هیڅوک لایق د عبادت مګر هم دی دی چه تل ژوندی، په یو حال باقی، قایم، کامل، تدبیر والا دی

---

**تفسیر:** له ړومبنی آیت څخه د حق سبحانه تعالیٰ عظمت او شان هم معلومیږی وروسته له هغه دا آیت نازل شو چه د ذات توحید، او د هغه د تقدس او جلال او د عظمت غایت په ډیر وضاحت سره پکښی بیان شوی دی - د دی آیت لقب «آیة الکرسی» دی، چه په مبارک حدیث کښی د کتاب الله خورا (ډیر) لوی آیت ښودل شوی دی او ډیر فضیلت او ثواب ئی منقول دی. اصلی خبره دا ده چه حق تعالیٰ پخپل پاک کلام کښی په مخلوط ډول (طریقه) سره دری دوله (قسمه)

مضامین ځای په ځای بیان کړی دی.
(۱) د توحید او د صفاتو علم.
(۲) د احکامو علم.
(۳) د قصصو او حکایاتو علم، چه له دغه علم څخه هم د توحید او صفاتو تقریر او تائید مقصود دی.
یا د علم الاحکام تاکید او ضرورت مطلوب دی. د توحید او د صفاتو علم او د احکامو علم هم یو له بل سره دومره مربوط او تړلی دی، چه یو د بل له پاره لکه علت او علامت داسی دی. د حق تعالیٰ صفات د شرعیه ؤ احکامو له پاره منشاء او اصل دی، او شرعیه احکام د الله جل جلاله صفاتو ته لکه ثمرات او فروع داسی دی. نو اوس ښکاره ده چه د قصصو له علم څخه او د احکامو له علم څخه د توحید علم ته خامخا اعانت او تقویت رسیږی او د قصصو د علم او د توحید او د صفاتو له علم څخه د احکامو د علم تاکید، او د هغه ضرورت بلکی حقیقت او اصلیت ثابتیږی. او دا طریقه چه له دریو طریقو څخنی مرکبه ده، خورا (ډیر) زیاته ښه، آسانه او د قبول او منلو وړ (لائق) ده. اول خو له دی وجی چه د یوی طریقی پابندی، د ملال موجب وی او له یوه علم څخنی بل علم ته انتقال داسی ښکاری لکه چه سړی د یوه باغ له سیر او تفریح کولو څخه وروسته، د بل باغ په سیر او تماشی کښی مشغول شی، بل د دی دری واړو طریقو یو ځای کیدلو حقیقت، منشاء، ثمره او نتیجه ګرد (ټول) سره له ورا معلومیږی، او په دی کښی د احکامو تعمیل په خورا (ډیر) شوق، چمتوالی، (تندئ) رغبت او بصیرت سره دی، نو ځکه دا پاس ذکر شوی طریقی خورا (ډیر) عمده او ګټوری دی او په عظیم الشان قرآن کښی ډیری استعمال شوی. دلته وګورئ! چه ړومبی ئی احکام په څه کثرت او تفصیل سره بیان کړل او وروسته له هغه ئی د مصلحت او ضرورت په اندازه قصی بیانی کړی. او د مذکوره ؤ احکامو فوائد او نتائج ئی ګواکی مونږ ته زمونږ په سترګو راوښودل، وروسته له دی نه ئی «**آیة الکرسی**» بیان کړه چه د توحید او صفاتو په موضوع کښی یو ممتاز حیثیت لری، او په دی سره ئی د ګردو (ټولو) حکمونو اساس او ریښی (ریشی) په زړونو کښی داسی ټینګی او مضبوطی کړی، چه که څوک ئی وکاږی ایستلی ئی نه شی.

---

لَا تَأْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَا نَوْمٌ ؕ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ ؕ مَنْ ذَا الَّذِیْ یَشْفَعُ عِنْدَهٗۤ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ؕ یَعْلَمُ مَا بَیْنَ اَیْدِیْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۚ وَلَا یُحِیْطُوْنَ بِشَیْءٍ مِّنْ عِلْمِهٖۤ اِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ وَسِعَ كُرْسِیُّهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ ۚ وَلَا یَـُٔوْدُهٗ حِفْظُهُمَا ۚ وَهُوَ الْعَلِیُّ الْعَظِیْمُ ﴿۲۵۵﴾

نه نیسی ده لره پرکالي د خوب (یعني نه راځي پر الله د خوب پرکالی) او نه په خپله خوب، ده لره دی هر هغه څه چه په آسمانونو کښې دی او هر هغه څه چه په ځمکه کښې دی (سره له آسمانونو او ځمکی ملکاً، خلقاً وعبیداً)، څوک به وی هغه چه سپارښت (سفارش) وکړی په نزد د ده؟ (هیڅوک ئی نشی کولی!) مګر (خو کولی شي) په اذن (حکم) د ده سره، عالم دی په هغو شیانو چه په مخ د مخلوقاتو کښې دی (د دنیا له امورو) او په هغو شیانو چه وروسته له دوی دی (د عقبیٰ له امورو) او نه شي احاطه کولی دوی په هیڅ شی له معلوماتو د ده مګر (احاطه کولي شي) په هغه شي چه اراده وکړی (الله د هغه شي د معلومولو دوی لره) ارته (محیطه) ده کرسی د ده پر تولو آسمانونو او ځمکي باندی او نه ستومانه کوی ده لره ساتنه د آسمانونو او ځمکی او هم دی (الله) دی (له ګردو(تولو) ځنی) خورا (ډیر) پورته (په باچاهی او غلبه خپله کښې) خورا (ډیر) لوی (په کمالیه ؤ صفاتو کښې)

---

**تفسیر:** په دی آیت کښې د پاک الله د ذات د توحید او د صفاتو د عظمت بیان شوی دی چه الله تعالیٰ موجود او تل دی. او هیڅوک د هغه شریک نه دی، د ګردو (تولو) مخلوقاتو موجد او مالک هم دی دی، له ګردو (تولو) نقصاناتو او هر راز تبدلاتو او فتورو ځنی پاک او منزه دی، د ګردو (تولو) شیانو مالک او څښتن (خاوند) دی، په ګردو (تولو) شیانو باندی د ده علم کامل او په تولو باندی پوره قدرت لری، خورا (ډیر) لوړه درجه او عظمت ورته حاصل دی، هیچا ته دومره مجال نشته او نه حق لری چه بی د ده له حکمه څخه د بل سپارښت وکړی شي او هیڅ یو داسی کار او امر نشته چه د هغه کول ده ته کومه سختي او مشکلات ولری. له ګردو (تولو) شیانو او له هر څه څخه لوړ او بهتر دی. د الله تعالیٰ د کبریاء او لوئی په مقابل کښې ګرد (تول) حقیر دی. له دی ځنی دوه په زړه پوری مضمونونه څرګندیږی.

(۱) د حق تعالیٰ ربوبیت او حکومت او زمونږ او د نورو مخلوقاتو محکومیت او عبودیت، چه د هغه له مخی د حق تعالیٰ ګرد (تول) ذکر شوی، او نا ذکر شوی احکام بی له څرنګه، او څه ویلو ځنی واجب التصدیق او واجب التعمیل کیدل، او د هغه په احکامو کښې د هیڅ یوه راز شک او شبهی اعتبار نه کول ـ معلوم شول.

(۲) کله چه له پخوانیو ذکر شوو ډیرو عباداتو او معاملاتو څخه او د نعمتونو او عذابونو له لیدلو ځنی چاته داسی شبهه پیدا کیده، چه د هر سړی دومره زیات معاملات او عبادات دی، چه هغه ګرد (تول) دومره زیاتیږی، چه تر حساب او کتاب او انضباط لاندی د هغو راتلل محال، بلکه ناممکن په نظر راځی، بیا د هغو په مقابل کښې هر یوه ته ثواب او عقاب ورکول، له عقله

وتلی او ناممکن په نظر راځی نو په دی آیت کښی حق سبحانه و تعالیٰ خپل داسی خپل مقدس صفات بیان کړل چه هغه ګرد (تول) خیالات او چرتونه په آسانی سره لری شول. یعنی د هغه علم او قدرت داسی کامل دی چه هیڅ یو شی داسی نه دی، چه له هغه ځنی بهر او خارج وی. د هغه کثیر الصفات ذات علم او قدرت چه دومره لوړ او غیر متناهی او تل یو شان قائم او باقی دی، نو هغه ته د جهان د ګردو (تولو) جزئیاتو انضباط، او د هغوی د ثواب او عقاب ورکول، کوم سخت او ګران کار نه دی، بلکه ډیر سهل او آسان دی.

---

لَآ اِكْرَاهَ فِي الدِّيْنِ ۟ۙ قَدْ تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ ۚ

---

نشته هیڅ زور په (منلو) د دین کښی په تحقیق سره ښکاره شوی ده سمه لاره (د ایمان) له ګمراهی (کفر) ځنی.

---

**تفسیر:** کله چه د توحید ګرد (تول) دلائل په ښه شان سره بیان شول، چه له هغو ځنی هیڅ یو کافر ته هم هیڅ یو عذر پاتی نشو، نو اوس په زور او زیاتی سره د هیچا مسلمانولو ته حاجت پاتی نشو ـ ښائی چه عاقلان پخپله وپوهیږی. او په شریعت کښی هم داسی حکم نشته چه په زور سره خوک مسلمانی ته اړ (مجبور) کړی شی د ﴿ اَفَاَنْتَ تُكْرِهُ النَّاسَ حَتّٰى يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ﴾ د نص په اساس هغه خوک چه «جزیه» منی د هغه ځان او مال محفوظ او ساتلی پاتی کیږی.
(ځینی وائی چه دا اخبار دی په معنی د نهی یعنی په زور او زیاتی سره هیڅوک دین ته مه اړ (مجبور) کوئ! دغه نهی یا خو عامه او د «التوبی» د (۱۰) رکوع په (۷۳) آیت سره چه ﴿ يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ ﴾ دی منسوخه ده یا خو تر اهل کتابو پوری خاصه ده چه په «جزیه» ورکولو سره خپل ځان ساتلی شی. نو په دغه تقدیر سره به نه وی منسوخ).

---

فَمَنْ يَّكْفُرْ بِالطَّاغُوْتِ وَيُؤْمِنْۢ بِاللّٰهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى ۗ لَا انْفِصَامَ لَهَا ۗ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۵۶﴾

---

پس هر څوک چه کافر (منکر) شو له (عبادت د شیطان او) بتانو او ایمان ئی راوړ (یقین ئی وکړ) په (وحدانیت) د الله باندی نو په تحقیق سره ئی تینګه نیولی ده کړئ کلکه چه له سره نشته پریکیدل هغی لره، او الله ښه اوریدونکی (د ګردو (تولو) اقوالو) ښه عالم دی (پر تولو احوالو)

**تفسیر:** یعنی کله چه د هدایت او ضلالت په منځ کښی تمیز وشو نو اوس څوک چه له ضلالت څخنی مخ اړوی. او هدایت خوښوی نو هغه داسی یوه تینګه او مضبوطه کړۍ نیولی ده چه د هغی د شکیدلو او خوشی کیدلو هیڅ خوف او ویره نشته. او حق تعالیٰ ګرد (تول) ښکاره اقوال ښه اوری، او په تولو پټو کارونو او نیتونو او د زړونو په خبرو او احوالو باندی دیر ښه عالم دی. او له ده څخنی د هیڅا خیانت او بدنیتی پټی نه پاتی کیږی.

---

اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ۬ؕ
وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَوْلِيٰٓـُٔهُمُ الطَّاغُوْتُ يُخْرِجُوْنَهُمْ مِّنَ النُّوْرِ
اِلَى الظُّلُمٰتِ ؕ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٢٥٧﴾
اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْ حَآجَّ اِبْرٰهٖمَ فِيْ رَبِّهٖٓ اَنْ اٰتٰىهُ اللّٰهُ
الْمُلْكَ ۘ اِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ رَبِّيَ الَّذِيْ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ۙ قَالَ اَنَا
اُحْيٖ وَاُمِيْتُ ؕ قَالَ اِبْرٰهٖمُ فَاِنَّ اللّٰهَ يَاْتِيْ بِالشَّمْسِ مِنَ
الْمَشْرِقِ فَاْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ الَّذِيْ كَفَرَ ؕ وَاللّٰهُ
لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٢٥٨﴾

---

الله دوست (مرستیال ـ مددګار) دی د هغو کسانو چه مؤمنان دی چه باسی دوی له تیارو (د کفر او ګمراهی نه) د رڼا (د ایمان او هدایت) لوری ته او هغه کسان چه کافران (منکران) شوی دی دوستان د دوی شیطانان دی چه باسی دوی له رڼا (د فطری ایمان او هدایت نه) د تیارو (د کفر او ګمراهی) لوری ته دغه کسان (چه فطری ایمان ئی په عملی کفر سره بدل کړی دی) صاحبان د اور (د دوزخ) دی هم دوی په دی اور کښی تل پاتی کیدونکی دی. آیا نه دی لیدلی تا (یعنی ای محمده ستا علم نه دی رسیدلی قصی د) هغه سړی (نمرود) ته چه جګړه (حجت بازی) ئی کړی وه ابراهیم سره په (حق د) رب د ده کښی له دی جهته چه ورکړی ؤ ده ته الله ملک (سلطنت). کله چه وویل ابراهیم رب زما هغه ذات دی چه ژوندی کوی او مړه کوی وویل (نمرود) چه زه (هم) ژوندی کوم (واجب القتل په عفوی سره) او مړ کوم

(بیګناه په ظلم سره)، وویل ابراهیم «نو بیشکه الله راولی نمر له (لوری د) مشرقه نو ته (ای نمروده!) راوله هغه (نمر) له (لوری د) مغربه!» نو حیران (او شرمنده) شو هغه چه کافر شوی ؤ (یعنی نمرود)، او الله نه ښئی (د خیر سمه صافه لاره) قوم د ظالمانو ته (په سبب د ظلم د دوی پر خپلو نفسونو)

**تفسیر:** په لومړی آیت کښې د مؤمنانو او د کافرانو او د اسلام د نور او د کفر د ظلمت ذکر ؤ، اوس د هغو د تائید له پاره څو مثالونه راوړی په اول مثال کښې د نمرود باچا ذکر دی چه ده د خپلی شهنشاهی په غرور خلق دی ته مجبورول چه سجدی ورته وکړی. کله چه ابراهیم علیه السلام له ده سره مخامخ شو نو سجده ئی ورته کښینښوده نمرود له ده څخنی د هغی د سبب پوښتنه وکړه ابراهیم علیه السلام ورته وویل چه «زه پرته (علاوه) له خپله ربه بل هیچا ته سجده نه کوم.» نمرود وویل چه «رب خو زه یم!» ابراهیم علیه السلام وویل چه «زه یوه مجازی حاکم ته رب نشم ویلی. زما رب هغه ذات دی چه ژوندی کول او مړه کول د ده په واک (اختیار) کښې دی.» نمرود وویل چه «دوه تنه بندیان چه یو واجب القتل او بل بی ګناه وی ژر راحاضر کړئ !» نو سم د لاسه نمرود حکم وکړ، چه «واجب القتل بندی دی خوشی (ازاد) شی! او بی ګناه بندی دی وواژه (قتل) شی!.» او په پای (آخر) کښې ئی حضرت ابراهیم علیه السلام ته وویل «ودی لیدل چه زه هم هر سړی چه وغواړم وژنم ئی - او هر څوک چه وغواړم ژوندی کوم ئی.» دلته حضرت ابراهیم علیه السلام د نمر دلیل ور وړاندی کړ او هغه مغرور احمق ئی ساکت او بی ځوابه کړ خو هدایت ئی په برخه نشو. یعنی سره د بی ځوابه پاتی کیدو د حضرت ابراهیم علیه السلام ارشاد ته ئی غوږ کښینښود؟ او ایمان ئی رانه وړ. یا داسی ووایئ چه د حضرت ابراهیم علیه السلام د دوهم سوال ځواب ئی ونه شو ویلی. حال دا چه همغسی لکه نمرود چه د ده د اول سوال ځواب ورکړی ؤ، د هم داسی ځواب ورکولو امکان دلته هم ؤ. چه داسی ئی ویلی وی (چه د مشرق نه ئی زه راخیژوم ستا خدای دی له مغربه راوخیژوی.)

اَوْ كَالَّذِیْ مَرَّ عَلٰی قَرْیَةٍ وَّ هِیَ خَاوِیَةٌ عَلٰی عُرُوْشِهَا ۚ قَالَ اَنّٰی یُحْیٖ هٰذِهِ اللّٰهُ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ فَاَمَاتَهُ اللّٰهُ مِائَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهٗ ؕ

یا (آیا ستا علم نه دی رسیدلی قصی د) هغه سړی (عزیر) ته چه تیر شو په یوی قرئی او هغه (قریه) پریوتلی وه (دیوالونه ئی) پر بامو د دوی باندی (نو عزیر) وویل څرنګه به (بیا ودانه او) ژوندی کړی الله دا (قریه یا ئی خلق) وروسته له (ورانیدو او) مړ کیدو (د اهل) د هغی؟ نو مړ کړ دی الله (او مړ ئی پریښود) سل کاله بیا ئی پورته (ژوندی) کړ دی.

**تفسیر:** هغه سړی حضرت عزیر علیه السلام ؤ چه ګرد (ټول) توریت ئی یاد ؤ. بخت نصر یو کافر باچا ؤ، هغه بیت المقدس وران کړ، او د بنی اسرائیلو ډیر کسان ئی بندیان کړل، او ځان سره ئی بوتلل، چه په هغوی کښې حضرت عزیر علیه السلام هم ؤ. کوم وخت چه عزیر علیه السلام، له بنده خوشې (ازاد) شو، نو په لاره کښې په یوه وران ښار باندې تیر شو، چه د هغه ګرد (ټول) دیوالونه بر سیره پر چتونو باندې لویدلی وو، نو د ده په زړه کښې دا خبره تیره شوه، چه د دې ښار ګرد (ټول) اوسیدونکی مړه شوی دی. نو دوی به څرنګه د حق تعالیٰ له لوری بیا ژوندی شی؟ او دا ښار به بیا څرنګه ودان شی؟ دلته د ده روح قبض او سا ئی الله تعالیٰ وښکله او خر ئی هم مړ شو. سل کاله هم داسې مړ پاتې شو ـ نه څوک د ده په مړه کیدلو باندې خبر وو، نه د چا نظر پرې لګیدلی ؤ په دې موده کښې بخت نصر هم مړ شو، او یوه بل باچا په دې موده کښې بیت المقدس بیا ودان کړ، او همغه ښار ئی هم ښه جوړ کړ، چه د حضرت عزیر علیه السلام د اندیښنې سبب ګرځیدلی ؤ. دلته عزیر علیه السلام وروسته له سلو کلونو بیا ژوندی کړ شو. که ګوری چه د ده د خوړلو او څښلو شیان (چه یوه ټوکری ـ تازه انځر او انګور ـ لړ شوده او څه عصیر ؤ) همغسې صاف ـ پاک او تازه ورته پراته دی. او د ده خر چه مړ شوی ؤ هډوکی ئی ګرد (ټول) سره وراسته شوی، او کوته پراته وو. اوس همغه هډوکی د ده تر سترګو لاندې بیا ژوندی شول. د دې سلو کلونو په منځ کښې بنی اسرائیل هم له بنده خوشې (ازاد) شوی وو. او پخپلو ښارونو کښې ئی هستوګنه کوله. حضرت عزیر علیه السلام همغسې چه نوی ژوندون ئی ولید. د هغه وران ښار نوی ودانی ئی هم په خپلو سترګو ولیدلې (ځینې وائی په﴿ كَالَّذِي ﴾ کښې (ک) زائد دی. او دغه﴿ الَّذِي﴾ په تیره ﴿ الَّذِي ﴾ عطف دی. یعنی ﴿ أَوْ كَالَّذِي مَرَّ عَلَىٰ قَرْيَةٍ ﴾ .

---

قَالَ كَمْ لَبِثْتَ ۖ قَالَ لَبِثْتُ يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ۖ

---

وویل (الله عزیر ته چه) «څومره ځنډ (تاخیر) کړی دی تا (دلته)،» وویل (عزیر) «ځنډ (تاخیر) می کړی دی یوه ورځ یا یوه برخه د ورځې»،

---

**تفسیر:** کله چه حضرت عزیر علیه السلام مړ کیده، نمر لږ څه هسک (اوچت) راغلی ؤ ـ او کله چه بیا ژوندی شو، لا ماښام شوی نه ؤ نو ړومبی ئی داسې خیال کړی ؤ، که زه دلته پرون ویده شوی یم، خو یوه ورځ ـ او که هم دا نن ویده شوی یم، خو لا پوره یوه ورځ هم نه ده تیره. (دلته د زمانې تعیین غرض نه دی، بلکه د مودې لږوالی مقصود دی)

---

قَالَ بَل لَّبِثْتَ مِائَةَ عَامٍ فَانظُرْ إِلَىٰ طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ لَمْ يَتَسَنَّهْ ۖ وَانظُرْ

اِلٰى حِمَارِكَ وَلِنَجْعَلَكَ اٰيَةً لِّلنَّاسِ وَانْظُرْ اِلَى الْعِظَامِ كَيْفَ نُنْشِزُهَا ثُمَّ نَكْسُوْهَا لَحْمًا ؕ

وويل (الله داسی نه ده لکه چه ته وائی) بلکه ځند (تاخیر) کړی دی تا (دلته) سل کاله نو وګوره خوړو خپلو ته (چه انځر او انګور دی) او (شیانو د) څښلو خپلو ته (چه شوده او عصیر دی) چه هیڅ نه دی خراب شوی (سره له تیریدلو د سلو کلونو) او وګوره خره ته دی (چه هډوکی ئی څرنګه تک سپین ځلیږی) او دپاره د دی چه مونږ وګرځوو تا دلیل (د قدرت) له پاره د خلقو (په بیا ژوندی کیدو سره) او وګوره طرف د هډوکو (د خره خپل) ته چه څرنګه راخوځوو (مونږ) هغه بیا ورآغوندو هغوی ته غوښه

**تفسیر:** د حضرت عزیر علیه السلام په مخ کښی هغه ګرد (تول) هډوکی د بدن له ترکیب سره سم تول کړل شول، بیا په هغوی باندی غوښی زرغونی شوی. او پوستکی پری وغوړیدل بیا د الله تعالیٰ په قدرت په هغه کښی سا ننوتله، او له خپل ځای څخه پاځیده! او ودریده او وئی هنګل (اواز ئی وکړو). او له «العظام» نه د هغو مرو هډوکی مراد دی چه د تعجب مورد ګرځیدلی ؤ.

فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهٗ ۙ قَالَ اَعْلَمُ اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۲۵۹﴾

نو کله چه ورښکاره شو ده ته (دا حال په مشاهده سره نو) وویل (عزیر چه اوس) پوهیږم (په مشاهده سره هم) چه بیشکه الله په هر شی باندی (چه اراده وفرمائی) ښه قادر دی.

**تفسیر:** کله چه حضرت عزیر علیه السلام دا ګردی (تولی) پیښی په خپلو سترګو سره ولیدی، نو وئی ویل چه لا می ښه باور او یقین راغی چه پاک الله پر هر شی باندی ښه قادر دی. یعنی په دی خبره باندی خو پخوا له دی نه هم معتقد وم، چه د مړی ژوندی کول الله جل جلاله ته ډیر آسان کار دی، خو اوس می د ده دا قدرت په خپلو سترګو ولید. «دا ئی مطلب نه دی چه پخوا ئی په یقین کښی څه کمی ؤ. هو! داسی ننداره ئی په خپلو سترګو نه وه لیدلی» بیا حضرت عزیر علیه السلام له دی ځایه پاڅید، او د بیت المقدس په لوری رهی (روان) شو هلته ئی هیڅوک ونه پیژندل، ځکه چه دی همغسی ځلمی پاتی ؤ، او د ده د پخوا زمانی هلکان څوک مړه او ځینی سپین ږیری شوی وو. کله چه ده وویل چه «زه عزیر یم.» خلقو ونه منله، نو

ده د خپلې دعوی د ثبوت له پاره دوی ته توریت له یاده واوراوه. نو د خلقو باور پری وشو، چه دی بیشکه همغه نبی علیه السلام دی، ځکه چه بخت نصر ګرد (تول) کتابونه سوځولی وو، چه د هغو په منځ کښی توریت هم ؤ.

وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ رَبِّ أَرِنِى كَيْفَ تُحْىِ ٱلْمَوْتَىٰ ۖ قَالَ أَوَلَمْ تُؤْمِن ۖ قَالَ بَلَىٰ وَلَـٰكِن لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِى ۖ

او (یاد کړه ای محمده!) هغه وخت چه وویل ابراهیم ای ربه زما وښیه ماته چه څرنګه ژوندی کوی ته مړی؟ وویل (الله) آیا ستا لا باور نشته (په ژوندی کولو د مړو؟ بیا) وویل (ابراهیم) چه هو! (باور می شته!) ولیکن (غواړم دا) د دی له پاره چه مطمئن شی زړه زما.

تفسیر: لنده ئی دا چه یقین ئی پوره ؤ، خو یواځی د مشاهدی او د عین الیقین غوښتونکی ؤ. چه هغه هرومرو (خامخا) په کتلو باندی موقوف دی.

قَالَ فَخُذْ أَرْبَعَةً مِّنَ ٱلطَّيْرِ فَصُرْهُنَّ إِلَيْكَ ثُمَّ ٱجْعَلْ عَلَىٰ كُلِّ جَبَلٍ مِّنْهُنَّ جُزْءًا ثُمَّ ٱدْعُهُنَّ يَأْتِينَكَ سَعْيًا ۚ

وویل (الله) نو ونیسه! څلور له مرغانو نه پس رانژدی کړه! دوی ځان خپل ته (چه ښه ئی وپیژنی بیا ئی حلال کړه!) بیا ئی کیږده! په هر یوه غره باندی له دوی څخه یوه یوه برخه بیا راوبوله! (ای ابراهیمه!) دوی (یعنی دغه مرغان) (نو) رابه شی دوی تاته (ای ابراهیمه!) په منډو،

تفسیر: پاک الله له ارشاد سره سم حضرت ابراهیم علیه السلام څلور مرغان واخیستل چه طاؤس - چرګ - کارغه او کوتره یا تیوس ؤ، او څلور واړه ئی له خپله ځانه سره روږدی (آموخته) کړل، چه په بللو باندی به هر یو په تلوار سره ورته راته، او د ده معرفت او پیژندګلوی هم له هغو سره ډیره زیاته شوه، بیا ئی د پاک الله په امر سره دا څلور واړه مرغان حلال کړل، او په څلورو غرونو ئی د دی مرغانو اجزاء داسی سره وویشلی، چه پر اول غره باندی ئی د دی څلور واړو سرونه کیښودل او په دوهم باندی ئی د هغوی ځانګونه واچول او په دریم باندی ئی د هغوی

پښې وغورځولی او په ځلورم غره باندی ئی د هغوی تنی کېښودی. او دی په خپله د دی ځلورو واړو غرونو په منځ کښې ودریده، او یوه مرغه ته ئی غږ وکړ، نو د هغه سر د یو غره له سره والوت، او په هوا شو، د هغه پښې، ځانګونه او تنی هم ورسره والوتی او په هوا کښې سره ونښتلی، او روغ رمټ بیرته په ځمکه کښې کیناست او د حضرت ابراهیم علیه السلام مخ ته په خپلو پښو راغی. هم داسی د دوهم، دریم، او ځلورم مرغه اجزاء پرله پسی الوتلی او په هوا کښې سره پیوند کیدلی. او د خپلو جثو له جوړیدلو څخه وروسته د خلیل الله علیه السلام په مخ کښې په خپلو پښو راتلل. یا دا چه ځان ته ئی رانژدی کړه.! او حلال ئی کړه! او غوښې، هډوکی، بڼې، او پښې ئی تول سره وټکوه! او سرونه ئی له ځان سره وساته! دا ګډه غوښه ئی سره کلوله کلوله کړه! او په ځلورو غرو باندی ئی کیږده! بیا ورناری کړه! نو را به شی دوی تاته بیرته په تلوار سره.

---

وَاعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٦٠﴾

---

او پوه شه! (ای ابراهیمه!) چه بیشکه الله ډیر غالب دی (د احکامو په انفاذ) ښه حکمت والا دی (چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی).

---

**تفسیر:** دلته د دوو خرخشو (اشکالو) او سوداګانو د پیدا کیدلو قوی احتمال شته، اول د بیځانو او متفرق الاجزاو جسم ژوندی کیدل، قابل د انکار کیدی شی. دوهم داسی خصوصیات چه مرغان دی وی، او په شمیر کښې دی هم ځلور وی، او دا ځلور دی هم هغه او دغه مرغان وی، او په دا ډول (طریقه) دی د هغوی اجزاء تیت پیت (منتشر) او متفرق شی، او بیا دی وبلل شی، نو هغه به ژوندی کیږی، او په ډیر تلوار به تاسی ته راځی. ظاهراً د دی شروطو هیڅ دخل، او د دی قیودو هیڅ یوه ګټه او فایده نه ښکاری، نو ځکه ئی د ړومبنی سودا د دفعی له پاره «عزیز» او د وروستنی سودا د لری کیدلو له پاره ئی «حکیم» وفرمایل، چه دواړه شبهی بیخی له منځه لاړی شی. یعنی په دی باندی ښه وپوهیږئ چه الله تعالیٰ د خورا (ډیر) لوی قدرت څښتن (خاوند) دی، څه چه اراده وکړی، همغسی کوی. د هغه په هر حکم کښې ډیر حکمتونه شته، که مونږ د هغوی ادراک او احاطه ونه شو کولی، نو دا زمونږ د پوهی او علم نقصان دی، او هیڅ وخت نه ښائی چه د هغه له حکمتونو څخه انکار وشی. والله اعلم.

په «آیة الکرسی» کښې ئی د علم او قدرت او نورو الٰهیه ؤ صفاتو ذکر وفرمایه، وروسته له هغه ئی دا دری واړه قصی بیانی کړی، الله تعالیٰ هر چاته که د هدایت اراده وکړی، نو هغه ته لار ښوونه کوی. او که د چا د ګمراهی اراده وکړی، هغه ګمراه کوی او ژوندی کول او مړه کول ګرد (تول) د هغه په قدرت او اختیار کښې دی. اوس د «جهاد» او د الله تعالیٰ په لاره کښې د مال صرفولو او دولت لګولو فضیلت، او د هغه په نسبت د قیودو او شرائطو بیان فرمائی چه د

هغه ذکر لړ څه پخوا له دی نه هم تیر شوی دی، ځکه چه د «جهاد» او د مال د انفاق هغه گرد (تول) موانع چه په نظر راځی د حق تعالیٰ په علم او قدرت باندی له یقین او باور کولو او د هغه د قدرت د عجائبو له معلوملو څخه وروسته که دغه تول موانع له منځه لاړ نه شی نو هرومرو (خامخا) به لړ او متزلزل شی.

---

مَثَلُ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ اَنْۢبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِيْ كُلِّ سُنْۢبُلَةٍ مِّائَةُ حَبَّةٍ ؕ وَاللّٰهُ يُضٰعِفُ لِمَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۶۱﴾

---

مثال (صفت د نفقی او ورکړی) د هغو کسانو چه صرفوی مالونه خپل په لاره د الله (په جهاد او نورو عبادتونو) کښی په مثل د یوی دانی (د تخم) دی چه زرغونه کړی دا (دانه) اوه وږی په هر یوه وږی کښی سل (سل) دانی وی، او الله زیاتوی (اجر) دپاره د هغه چا چه اراده وکړی (اجر د زیاتولو) او الله پراخ دی (احسان، فضل او رحمت د ده) ښه عالم دی (په تولو احوالو)

---

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ په لاره کښی د لږ مال ثواب هم ډیر دی. لکه چه له یوی دانی څخنی اوه سوه دانی پیدا کیږی، او الله تعالیٰ هر چا ته چه اراده وفرمائی لا ئی پسی زیاتوی، او له اوو سوو څخنی اوه زره او له دی نه ئی هم زیاتوی او الله جل جلاله لوی مغفرت کوونکی، او د هر صرف کوونکی په نیت، او د هغه د صرف شوی مال په مقدار، او د مال په کیفیت او په نورو شیانو باندی ښه عالم دی، او د هر یوه سره مناسبه معامله کوی.

---

اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ثُمَّ لَا يُتْبِعُوْنَ مَآ اَنْفَقُوْا مَنًّا وَّلَآ اَذًى ۙ لَّهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۲۶۲﴾

---

هغه کسان چه صرفوی مالونه خپل په لاره د الله (په جهاد او نورو عبادتونو) کښی بیا نه ورپسی کوی (دوی) په هغه شی پسی چه خیرات کړی ئی وی

(بارول د) احسان او نه (رسونه د) ضرر (شته) دپاره د دوی اجر (د نفقی ثواب) د دوی په نزد د رب د دوی او نه به وی هیڅ ډول (طریقه) ویره په دوی باندی او نه به دوی (هیڅکله) غمجن کیږی (د ثواب په نقصان سره).

**تفسیر:** هغه خلق چه د الله تعالیٰ په لاره کښی مال صرفوی، او د هغه صرف شوی مال په نسبت نه په ژبه چا باندی احسان ږدی، او نه چا ته د هغه په مقابل کښی په پیغور ورکولو او خدمت اخیستلو، او تحقیر کولو، ربړ (تکلیف) او زحمت پیښوی (یعنی هیڅ ډول (طریقه) قولی یا فعلی رنځ او آزار نه وررسوی) نو د هغوی له پاره کامل ثواب شته دی. او نه د ثواب له کمیدلو څخه به دوی ته څه ویره او اندیښنه وی او نه به د ثواب له نقصانه غمجن کیږی.

قَوْلٌ مَّعْرُوْفٌ وَّمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِّنْ صَدَقَةٍ يَّتْبَعُهَآ اَذًى ؕ وَاللّٰهُ غَنِيٌّ حَلِيْمٌ ﴿۲۶۳﴾

خبره معروفه نیکه (خوږه پسته فقیر ته) او عفوه (ده ته که الحاح یا شور وکړی) ډیره ښه ده له خیراته چه په هغه پسی وی ضرر (رسونه په منت یا په پیغور د سؤال سره،) او الله غنی دی (بی پروا له هر چا او هر شی) نهایت تحمل والا (د عذاب په وروسته والی د پښیمانتیا له پاره)

**تفسیر:** یعنی سوالگر ته په ورو ځواب ورکول، او د هغه له تینګار (تکرار) او بدخوئی ځنی تیریدل له هغه خیرات څخه ښه دی چه څو ځلی ئی سپک کړی او وئی شرموی یا پیغور ورکړی، یا احسان پری کیږدی. او الله تعالیٰ «غنی» دی چه د هیچا (انفاق ته چه په من او اذی وی او مال ته، څه حاجت او اړه (احتیاج) نه لری. هغه خیراتونه او «صدقی» چه تاسی ئی د هغه په لاره کښی ورکوئ، وپوهیږئ چه خپلو ځانونو ته ئی ورکوئ. او «حلیم» دی چه په هسی ربړولو (تکلیف ورکولو) باندی د عذاب په مقررولو او لیږلو کښی تلوار نه کوی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُبْطِلُوْا صَدَقٰتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْاَذٰى ۙ كَالَّذِىْ يُنْفِقُ مَالَهٗ رِئَآءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ

ای هغو کسانو! چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو!) مه باطلوئ

تاسي خيراتونه خپل (مه ضايع کوئ ثوابونه ئی) په احسان بارولو او ايذا (او ضرر رسولو) سره په شان (د ابطال د ثواب د انفاق) د هغه (سړی) چه صرفوی مال خپل دپاره د ښودنی د خلقو او ايمان نه لری په الله او په ورځی آخری باندی (چه قيامت دی)،

**تفسير:** يعني په «صدقی» او «خيرات» ورکولو سره د محتاجانو ربړول (تکليف ورکول)، او په دوی باندی احسان او منت بارول د صدقی او خيرات ثواب ضايع کوی. يا د نورو د ورښودلو له پاره د دی امله (وجی) خيرات ورکوی، چه خلق ورته «سخی» ووائی. نو د هسی ريائی خيرات ثواب هم هيڅ وی. پاتی شو دا ارشاد چه هغه په الله تعالیٰ او د قيامت په ورځی يقين نه لری نو دا د «صدقی» د ابطال له پاره قيد او شرط نه دی، ځکه چه «صدقه» خو يوازی، له رياء ځنی باطله کيدی شی، اگر که صرف کوونکی ئی مؤمن هم وی، مگر دا قيد ئی يوازی د دی له پاره زيات کړ، چه معلومه شی، چه رياء کاری د مؤمن له شانه لری ده. بلکه دا کار د منافقانو له حاله سره وړ (لائق) او مناسب دی.

فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ فَأَصَابَهُۥ وَابِلٌ فَتَرَكَهُۥ صَلْدًا ۖ لَّا يَقْدِرُونَ عَلَىٰ شَىْءٍ مِّمَّا كَسَبُوا۟ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْكَـٰفِرِينَ ﴿٢٦٤﴾

نو مثال د دی (رياء کار په صرفولو د مال کښی) په شان د صفت د هغی ښوئی تيږی (گټی) دی چه پرته وی په هغی باندی څه خاوری پس ورسيږی هغی ته زورور باران نو پريږدی دغه تيږه (گټه) پاکه (صافه له گرده) نه به قادريږی (دا رياء کاران) په هيڅ شی باندی له ثوابه د) هغه شی چه کسب کړی دی دوی، او الله نه ښئی (سمه صافه لاره د خير او ارشاد) قوم کافرانو ته (په سبب د ظلم د دوی پر خپلو نفسونو).

**تفسير:** مخکښی ووېل شول چه په اخلاص سره خيرات ورکول هسی دی، لکه چه له يوی کرلی شوی دانی ځنی (۷۰۰) دانی پيدا شی. اوس فرمائی چه په «خيرات» کښی نيت شرط دی. که څوک د «رياء» او خلقو ته د ځان ښوولو په نيت «صدقه» ورکړی، نو د هغه مثال هسی وگڼئ، لکه چه څوک کومه دانه پر يوه داسی ښويه تيږه (گټه) باندی وکړی چه پر هغی باندی لږ څه خاوره پرته وی، خو کله چه باران ووريږی نو هغه بيخی صافه او پاکه شی - نو په هغی باندی به

هغه دانه څرنګه زرغونه شي؟ هم داسې به په صدقاتو کښې ریاکارانو ته څه ثواب ورسیږي؟بلکه نه ورسیږي.

وَمَثَلُ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ وَ تَثْبِيْتًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍۭ بِرَبْوَةٍ اَصَابَهَا وَابِلٌ فَاٰتَتْ اُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ فَاِنْ لَّمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۲۶۵﴾

او مثال (صفت د صرفولو) د هغو کسانو چه صرفوی (لګوی) مالونه خپل له پاره د طلب د رضاء د الله او له پاره د ثبات (د زړه او صدق چه پیدا دی) له نفسونو د دوی څخه (په ایمان باندی) په شان د یوه باغ دی په لوړه ځمکه (مستعده مامونه) باندی چه ورسیږی دی (باغ) ته زوروړ باران نو ورکړی میوی خپلی دوچنده نو که ونه رسیږی دی (باغ) ته زوروړ باران نو نری باران (یا پرخه پری اوری هم) کافی ده، او الله په هغو شیانو چه تاسی ئی کوئ ښه لیدونکی دی (په پټو او ښکاره ؤ عالم دی).

**تفسیر:** له زوروړ باران څخنی مراد ډیر مال صرفول دی. او له نری څخنی د لږ مال صرفول مقصد دی. د زړونو له تثبیت څخه مطلب دا دی، چه ثابت کړی زړونه په ثواب میندلو کښې یعنی یقین ولرئ چه د خیرات ثواب هرومرو (خامخا) دوی ته رسیدونکی دی. که د دوی نیت سم وی، نو له ډیرو صرفولو څخه به دوی ته ډیر ثواب ور رسیږی، او په لږ خیرات سره هم د ثواب فائده ورحاصلیږی. لکه چه په خالصی (مستعدی ـ هواری ـ معتدلی ـ هواداری لمریزی) ځمکی کښې (یو ښکلی ښه میوه دار) باغ وی نو څومره چه باران (متدرجاً) ووریږی، هغومره ګټه به ور ورسیږی. که ئی نیت سم نه وی په هره اندازه چه زیات مال صرف کړی، هغومره مال ئی ضایع، او دی زیانمن کیږی. ځکه چه په زیات مال ورکولو کښې به ریاء او ځان ښوول هم زیات وی. لکه چه په ښویه تیږه (ګټه) باندی دانه نه زرغونیږی نو څومره زوروړ باران چه ووریږی هغومره زیان رسوی.

اَيَوَدُّ اَحَدُكُمْ اَنْ تَكُوْنَ لَهٗ جَنَّةٌ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّ اَعْنَابٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۙ لَهٗ فِيْهَا

مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ ۙ وَاَصَابَهُ الْكِبَرُ وَلَهٗ ذُرِّيَّةٌ ضُعَفَآءُ ۚۖ فَاَصَابَهَآ اِعْصَارٌ فِيْهِ نَارٌ فَاحْتَرَقَتْ ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۶۶﴾

آيا خوښوي يو د تاسي دا چه وي دی ده لره يو باغ له خرماؤ څخه او له انګورو څخه چه بهيږي له لاندی (د ونو) د هغو ويالی چه وي ده لره په دغه (باغ) کښي له (نورو) هر ډوله (قسمه) ميوو او ورسيږي ده ته زوړوالی او وي ده لره اولاد ضعيفان پس ورسيږي هغه (باغ) ته سخت باد چه وي په هغه کښي اور نو وسوځي دا (باغ) هم داسي (په شان د دی تير شوی بيان) بيانوی الله تاسي ته دلايل (د خپل قدرت) له پاره د دی چه تاسي فکر وکړئ! (په هغه کښي او تری پند واخلئ!)

**تفسير:** دا مثال د هغه چا دی چه د رياء او ځان ښکارولو ـ او د خلقو د خبرولو له پاره خير او خيرات کوی. يا د خيرات ورکولو په مقابل کښي پر مسکينانو باندی خپل منت او احسان ږدی. يا ايذاء ـ ضرر، او ربړ (تکليف) وررسوی. يعني دا داسي دی لکه چه يو سړی د خپل ځلميتوب، او قوت په وخت کښي يو ښه باغ (بڼ) تيار کړی، چه د ضعف او زړښت په وخت کښي ئی ميوی وخوری، او د ضرورت په وخت کښي ئی په ښه او کار ورشی، نو کله چه دی ضعيف او سپين ږيری شی، او د هغه باغ ميوی هم خپلی ترقی او زيات والی ته ورسيږی، نو دا باغ د ده د عين احتياج او اړتيا (محتاجی) په وخت کښي وسوځی. يعني خير خيرات او صدقات لکه ميوه دار باغ داسي دی، چه د هغه ميوه په آخرت کښي په کار ورځی. کله چه د چا نيت خراب وی، نو د ده دا باغ سوځی نو بيا به د هغه ميوه چه ثواب دی، په آخرت کښي څرنګه د هغه په ښه ورشی؟ حق سبحانه وتعالیٰ داسي په ښکاره او صاف ډول (طريقه) سره خلقو ته پند ورکوی. او دوی پوهوی ـ څو ښه وپوهيږی او د ده د قدرت په علائمو او آثارو ښه غور، او فکر وکړی.

کوم عمل چه په ريا شي په کار نه دی — مناسب د پاک مولا د دربار نه دی
عاجزی او اخلاص هر چاته په کار دی — رب د کبر او ريا خريدار نه دی

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْفِقُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّآ اَخْرَجْنَا لَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ ۪

وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنْفِقُونَ وَلَسْتُم بِآخِذِيهِ إِلَّا
أَن تُغْمِضُوا فِيهِ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴿۲۶۷﴾

ای هغو کسانو! چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو!) لګوئ! له حلالو (پاکو، غورو) د هغو مالونو چه (په کسب سره) تاسی ګټلی او له هغو (شیانو) چه ایستلی دی مونږ تاسی لره له ځمکی څخه (له حلالو پاکو غورو شیانو) او قصد مه کوئ تاسی (ورکولو) د خبیثو (حرامو نابودو شیانو) له هغه ماله چه لګوئ ئی تاسی (د الله په لاره کښی) حال دا چه نه یئ تاسی اخیستونکی د هغه (ناکاره شی په خپل حق کښی) مګر «خو ئی داسی اخلئ» چه سترګی پټی کړئ په (اخیستو د) هغه کښی او پوه شئ! چه بیشکه الله غنی دی (بی پروا له هر چا او هر شی - ورته تل ښه ستاینه (صفت) او) ثنا ویلی شوی.

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ په نزد د صدقاتو د مقبولیت شرط دا دی هغه خیرات چه له حلال ګټل شوی مال څخنی وی او حرام مال او څه شبهه او شائبه پکښی نه وی، او له ښو شیانو څخه ښه شی د الله تعالیٰ په لاره کښی ورکړ شی، او داسی خراب شیان په خیراتونو کښی صرف نه کړئ که تاسی ته دروراندی شی، نو تاسی ئی په اخیستلو کښی وراندی وروسته کوئ! او زړه مو نه غواړی! او نه ئی اخلئ! یا ئی په اخیستلو شرمیږئ! او په خوښی او خوشالی سره ئی له سره نه اخلئ! او وپوهیږئ چه پاک الله بی پروا دی او تاسی ورته اړ (مجبور) او محتاج یئ، او هغه تاسو ته هیڅ احتیاج نه لری. او د ډیرو محامدو او ښیګڼو (فائدو) څښتن (خاوند) دی که تاسی له ښو شیانو څخنی ښه شی د هغه په لاره کښی په مینه، شوق او محبت سره صرف کړئ! او ښه خیر ورکړئ! نو دی هغه خوښوی.

اَلشَّيْطٰنُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُم بِالْفَحْشَاءِ وَاللَّهُ
يَعِدُكُم مَّغْفِرَةً مِّنْهُ وَفَضْلًا وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿۲۶۸﴾

شیطان وعده درکوی تاسی ته د خواری (او ویروی مو چه خوار به شئ!) او حکم کوی تاسی ته په (کولو د) ناوړو (غلطو) کارونو (لکه بخل) او الله وعده کوی له تاسی سره د مغفرت (د ګناهونو) له خپله (لوری) او د فضل (د انفاق په بدل کښی)، او الله پراخ دی (رحمت، فضل او احسان د ده) ښه

عالم دی (پر ټولو احوالو)

**تفسیر:** که د چا په زړه کښې داسې خیال وګرځي «که خیرات ورکړم، نو خوار او مفلس به شم» او د الله تعالیٰ د اوامرو او تاکیداتو له اوریدلو سره بیا هم همت او میړانه (بهادري) نه کوي، او بخیل زړه کښې دا خبره ګرځوي چه له خپله ماله هیڅ شي صرف نه کړي، او د الله تعالیٰ له وعدې ځنې مخ اړوي، او په شیطاني وعدو باندې د ده د طبیعت میلان او اعتماد وي، نو ښائي چه دی یقین او اعتماد ولري چه دا خبره د شیطان له خوا د هغه په زړه کښې لویدلې ده او داسې دی نه وائي چه «ما خو د شیطان شکل په سترګو نه دی لیدلی، نو د هغه حکم به ماته څرنګه القاء کیږي؟» او که دا خیال ئې په زړه کښې وګرځي چه د «صدقې» او خیرات په وسیله ئې مغفرت ورپه برخه کیږي او په مال کښې ئې زیاتوالي او برکت پیدا کیږي نو ودې پوهیږي، چه دا خبره د الله تعالیٰ له خوا د هغه په زړه کښې لویدلې ده، نو د الله جل جلاله شکر دې وباسي، او د الله عم نواله په خزانه کښې د هیڅ کمې نشته، او د ګردو (ټولو) په ظاهر او باطن «خبیر» او د هر سړي په نیت او عمل باندې «بصیر» دی.

يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَنْ يَشَاءُ ۚ وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا ۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ ﴿٢٦٩﴾

ورکوي (الله) حکمت (نافع علم سره له عمله) هر چا ته چه اراده وکړي (د ورکولو ئې) او هر چا ته چه ورکړ شو حکمت (نافع علم سره له عمله) نو په تحقیق سره ورکړی شو (ده ته) خیر ډیر، او نه اخلي پند مګر خاوندان د عقلونو (صافو چه د وهم او نفسي غوښتنو شوائب پکښې نه وي).

**تفسیر:** یعنې هر هغه چا ته چه الله اراده وکړي علم تحقیق، د عمل تدقیق او د دیني خبرو او خیرات ورکولو پوهه ورکوي، چه په کوم نیت؟ او له کوم مال ځخه؟ او چا ته؟ او کوم دول (طریقه) محتاج ته ئې ورکړي؟ او هر چا ته چه پوهه ورکړې شوې ده هغه ته د دنیا او عقبیٰ لوی نعمت او ښیګڼه (فائده) په برخه شوې ده. (ابوالليث رحمة الله علیه وائي چه الله جل جلاله دنیوي مال ته ﴿ قُلْ مَتَاعُ الدُّنْيَا قَلِيلٌ ﴾ او علم ته ﴿ خَيْرًا كَثِيرًا ﴾ فرمایلي دی، نو ښائي چه علم او پوهنې ته ډیر اهمیت ورکړی شي!)

مال «فاني» او علم «باقي» دی — «باقي» واخله! «فاني» پریږده!
«علم» خوښ دی د پوهانو — ناپوهانو ته «جهل» پریږده!

«ادريس» وخوت په آسمان «قارون» ډوب په ځمکه پريږده !
«يؤت الحكمة» تل لوله! په «اسفارو» خر بار پريږده !

وَمَآ اَنۡفَقۡتُمۡ مِّنۡ نَّفَقَةٍ اَوۡ نَذَرۡتُمۡ مِّنۡ نَّذۡرٍ
فَاِنَّ اللّٰهَ يَعۡلَمُهٗ ؕ وَمَا لِلظّٰلِمِيۡنَ مِنۡ اَنۡصَارٍ ﴿۲۷۰﴾

او هغه شي چه صرف کړئ تاسي له نفقې (لکه زکوة او خيرات ـ لږ يا ډير) يا (ئې) لازم کړئ (پخپل ځان) له کوم نذره نو بيشکه الله ته معلوم دی هغه (لکه نور شيان)، او نشته له پاره د ظالمانو (چه بې ځايه مال صرفوی) هيڅ مدد کوونکی (ساتونکی له عذابه د الله)

**تفسير:** يعنی هغه شي چه په خيرات کښې ورکاوه کيږی، لږ وی که ډير، په ښه نيت وی که په خراب، په حقه لاره ئې لګوئ که په باطله، په پټه ئې ورکوئ که په ښکاره، د خلقو د ښودنې له پاره يا «نذر» په ځان اخلئ، په شرط يا غير شرط، په طاعت يا په معصيت کښې، په هر ډول (طريقه) سره چه وی بيشکه الله تعالىٰ ته هغه او نور ګرد (تول) امور ښکاره او معلوم دی. او هغه کسان چه د مال په «انفاق» يا په «نذر» کښې د الله له احکامو څخنې پرته (علاوه) کار کوی د هغوی هيڅوک مددګار نه دی. او په هر چا باندی چه الله تعالىٰ اراده وفرمائی خپل عذاب نازلوی.

**(فائده):** «نذر» په منلو سره واجبيږی، نو که بيا ئې اداء نه کړی ګنهګاريږی «نذر» پرته (علاوه) د الله تعالىٰ په نامه د بل چا په نامه روا نه دی. مګر داسی ووائی چه د الله تعالىٰ په نامه ئې فلانی ته ورکوم. يا د دی «نذر» ثواب دی هغه ته ورسيږی. نو په دی صورتونو کښې هيڅ پروا نشته.

اِنۡ تُبۡدُوا الصَّدَقٰتِ فَنِعِمَّا هِىَ ۚ وَاِنۡ تُخۡفُوۡهَا وَتُؤۡتُوۡهَا الۡفُقَرَآءَ فَهُوَ
خَيۡرٌ لَّكُمۡ ؕ وَيُكَفِّرُ عَنۡكُمۡ مِّنۡ سَيِّاٰتِكُمۡ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ خَبِيۡرٌ ﴿۲۷۱﴾

که ښکاره کوئ تاسي خيراتونه پس ښه کار دی (ښکاره کول د) هغه او که پټوئ ئې تاسي (په وخت د ورکولو کښې) او ورکوئ ئې تاسي فقيرانو ته نو دا (پټ ورکول بهتر او) خير دی تاسي ته، او لری به کړی (الله) له تاسي نه

ځینی د گناهونو ستاسی، او الله په هغو کارونو چه کوئ ئی تاسی ښه خبردار دی ( او هیڅ شی تری پټ نه دی).

**تفسیر:** یعنی که خلقو ته د ورښوولو په نیت نه وی، نو خیرات ورکول په ښکاره ډول (طریقه) سره بهتر دی چه د نورو شوق او رغبت هم ورته وشی. او په پټه سره هم خیرات ورکول ښه دی چه اخیستونکی ته حیاء ورنشی، لنده ئی دا چه اظهار او اخفاء دواړه بهتر دی. مګر د هری موقع او مصلحت لحاظ یوه ضروری خبره دی.

لَيْسَ عَلَيْكَ هُدٰىهُمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَهْدِىْ مَنْ يَّشَآءُ ۗ وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ فَلِاَنْفُسِكُمْ ۗ وَمَا تُنْفِقُوْنَ اِلَّا ابْتِغَآءَ وَجْهِ اللّٰهِ ۗ وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ يُّوَفَّ اِلَيْكُمْ وَاَنْتُمْ لَا تُظْلَمُوْنَ ﴿۲۷۲﴾

نشته پر تا باندی (پر سمه صافه لاره) برابرول د دوی ولیکن الله (په سمه صافه لاره) برابروی هغه څوک چه اراده وکړی (د برابر والی ئی) او هر هغه شی چه صرفوئ (ئی) تاسی له خیره (له مال نه) پس له پاره د نفسونو (ځانونو) ستاسی دی، او نه صرفوئ تاسی (ای مؤمنانو!) مګر (صرفوئ ئی) خاص له پاره د طلب د رضا د الله، او هر هغه شی چه صرفوئ (ئی) تاسی له خیره ( له مال نه) نو پوره به درکړ شی تاسی ته (ثواب د هغه ) او په تاسی به ظلم ونه کړ شی (د ثواب په کموالی سره).

**تفسیر:** کله چه رسول اکرم صلی الله علیه وآله وصحبه وسلم خپلو اصحابو ته امر ورکړ چه له مسلمانانو څخه پرته (علاوه) بل هیچا ته خیرات مه ورکوئ! او په دی امر کښی دا مصلحت ؤ چه د مال او شتو له امله (وجی) کافران د اسلام په لوری راغب شی، نو وروسته له دی نه ئی داسی امر وفرمایه چه دا ثواب به هلته دررسیږی چه له خیرات ورکولو څخنی د الله تعالیٰ خوښی مطلوبه وی نو دا آیت نازل شو، او په دی کښی عام حکم راغی، چه د پاک الله په لاره کښی چه هر چا ته مال ورکړئ!، د هغه ثواب تاسو ته درکاوه کیږی!، د مسلم او غیر مسلم څه تقئید نشته، یعنی هر چا ته چه صدقه ورکوئ ښائی چه یوازی د پاک الله په نامه وی، په هغه کښی د مسلمان او نامسلمان څه تخصیص نه دی په کار یوازی په صدقه ورکولو کښی دغه خبره ضروری ده چه محض «لوجه الله» وی.

لِلْفُقَرَآءِ الَّذِيْنَ اُحْصِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ضَرْبًا فِي الْاَرْضِ يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ اَغْنِيَآءَ مِنَ التَّعَفُّفِ تَعْرِفُهُمْ بِسِيْمٰهُمْ لَا يَسْـَٔلُوْنَ النَّاسَ اِلْحَافًا

(خیراتونه ستاسی) له پاره د هغو فقیرانو دی چه بند کری شوی دی په لاره د الله (په جهاد او نورو طاعاتو) کښی چه توان نه لری دوی د گرځیدلو په ځمکه کښی (له پاره د معاش او تجارت د طاعت د مشغولتیا په سبب) گمان کوی په دوی باندی ناپوه (په حال د دوی) د غنیانو په سبب د نه سوال کولو په کوښښ سره پیژنی به ته (ای سامعه!) دوی په څیرو (علائمو د تواضع او اثر د مجاهدی) د دوی سره، نه کوی دوی سوال له خلقو څخه په سختی (په الحاح او کوښښ) سره،

**تفسیر:** یعنی داسی خلقو ته صدقه ورکول ـ ډیر ثواب لری چه د الله جل و علیٰ شانه په لاره کښی او د هغه د دین په کار کښی مشغول او مقید وی، او د تګ او راتګ او د خوړو، لباس او نورو له ګټلو څخنی پاتی وی، او هیچا ته خپل حاجت او اړتیا (محتاجی) نه ښکاروی. لکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم ځینی اصحاب داسی هم وو چه دوی خپل کور کهول خوشی کری ؤ، او د (صفی) په اصحابو کښی شامل شوی وو، او پخپله خوښه او رضاء سره د پاک محمد صلی الله علیه وسلم صحبت او خدمت ئی خپلو ځانو ته غوره کری ؤ دینی علوم به ئی زده کول، مفسدینو او شر آچوونکو سره به ئی «جهاد» کاوه. هم داسی اوس هم پر مسلمانانو باندی د هغو کسانو امداد او مرسته (مدد) حتمی او ضروری ده چه د قرآن عظیم الشأن په یادولو، یا د دینی علومو په تحصیل کښی بوخت (ډوب) او مشغول وی. د څیری له پیژندلو څخنی دا مطلب دی چه د هغوی څیری ډیری ژیری او بدن ئی نری را بریښی، او د جد او جهد آثار د هغوی په مخونو کښی له ورا ښکاریږی.

وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ ﴿۲۷۳﴾

او هر شی چه تاسی صرفوئ (ئی په هر شی کښی) له خیره (له مال نه) پس بیشکه الله په هغه باندی (هم) ښه عالم دی.

**تفسیر:** په عام او خاص ډول (طریقه) د داسی خلقو له کارونو څخنی خبردار دی، چه یاد شول.

اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۝

هغه کسان چه صرفوی مالونه خپل (د الله په لاره کښی) په شپه او په ورځ کښی په پټه او په ښکاره پس (شته) دوی ته اجر (ثواب) د دوی په نزد د رب د دوی، او نشته (هیڅ ډول (طریقه)) ویره په دوی باندی او نه به دوی هیڅکله غمجن کیږی (د ثواب په نقصان سره).

**تفسیر:** تر دی ځایه پوری د خیرات بیان، او د هغه د فضیلت د قیدو او شرائطو ذکر ؤ. هر کله چه له خیرات کولو ځنی له یوه لوری په معاملاتو کښی د سهولت او د تسهیل عادت پیدا کیږی، او د بی مروتی او سخت گیری ـ خرابی ورخرگندیږی، او له بل لوری هغه گناهونه چه په معاملاتو او اعمالو کښی پیښیږی د هغوی کفاره هم په صدقاتو او خیراتو سره کاوه شی، او هم په خیرات کولو سره په اخلاقو، مروت، خیر غوښتلو او گټه رسولو کښی زیاتوالی پیدا کیږی، او د پاک خدای مخلوق ته فائدی رسیږی، نو له دی کبله (وجی) ئی په دی متعددو آیتونو کښی د هغه یادونه وکړه.

هر کله چه سود (سوائی) آخیستل له خیرات څخه مخالف دی، ځکه چه په صدقاتو کښی یوازی مروت، احسان او گټه رسونه او په سود کښی پرته (علاوه) له بی مروتی، ضرر رسولو، ظلم او خلل (ضرر) څخه بل شی نشته نو د خیراتونو او صدقاتو د فضیلت د بیانولو څخه وروسته د سود منمت او د هغه د ممانعت ذکر ډیر مناسب دی. څومره چه په خیرات کښی ښیگڼی (فایدی) او فضایل شته، هومره په سود او (سوائی) کښی خرابی او رذائل موجود دی.

اَلَّذِيْنَ يَاْكُلُوْنَ الرِّبٰوا لَا يَقُوْمُوْنَ اِلَّا كَمَا يَقُوْمُ الَّذِيْ يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطٰنُ مِنَ الْمَسِّ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْٓا اِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبٰوا وَاَحَلَّ اللّٰهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبٰوا

هغه کسان چه خوری (یعنی اخلی) سود (له خلقو) نه پاځیږی دوی (د قیامت په ورځ کښی) مگر (پاځیږی داسی) لکه چه پاځیږی هغه څوک چه حواس ئی خراب کړی وی شیطان (د عربو په گومان) له (خپله) اثره. دا

(حال د دوی) په سبب د دی دی چه دوی ویل چه بیشکه هم دا خبره ده چه تجارت خو هم داسی دی (په جواز کښی) لکه سود حال دا چه حلال کړی دی الله تجارت او حرام کړی ئی دی سود

**تفسیر:** سود خور به قیامت کښی داسی له خپل قبر څخه پورته کیږی لکه لیونی او هغه څوک چه حواس ئی خراب شوی وی. او دا حالت به د دی له امله (وجی) وی چه ده حلال او حرام سره ګډول او دا ئی ځکه کول چه په دغو دواړو کښی ئی ګټه مقصوده وه، او دا دواړه ئی حلال ګڼل، حال دا چه د «بیعی» او «ربوا» په منځ کښی دیر فرق شته، «بیع» د الله تعالیٰ له خوا حلاله، او «ربوا» حرامه ده.

**(فائده):** هغه نفع چه په «بیع» کښی ده هغه د مال په مقابل کښی ده لکه څوک چه د یوی درهمی جامه په یوه نیمه درهمه خرڅه کړی، او «سود» هغه دی چه څوک پکښی بلا عوضه نفع واخلی. لکه چه د یوی درهمی په عوض دوی درهمی واخلی. په رومبنی صورت کښی کله چه جامی او درهمی دواړه سره بیل بیل شیان دی، او د دوی د هر یوه نفع او غرض سره جلا (جدا) دی ـ نو ځکه د هغوی په منځ کښی موازنه او مساوات فی نفسه غیر ممکن دی. او کله چه پلورلو او پیرودلو «خرڅولو او اخیستلو» ته حاجت پیدا شی نو د موازنی او مساوات له پاره د خلقو د ضرورت او حاجت څخه پرته (علاوه) بل کوم شی نشته او د دوی د هر یوه ضرورت او رغبت له حده زیات مختلف دی. یوه سړی ته یوه درهمه دومره زیاته په کار وی، چه په خپله خوښه سره د لسو درهمو ټکر (کپړا) پری پلوری (اخلی). او بل سړی ته د یوه ګز ټکر (کپړی) دومره زیات ضرورت پیښیږی، چه د یوی درهمی ټکر (کپړه) په لسو درهمو باندی پیری (خرڅوی)، یعنی د احتیاج او رغبت له پاره دا دواړه په دواړو صورتونو کښی ورته یو شان ښکاری. نو که اوس څوک یو ټکر (کپړه) په یوی درهمی پیری (خرڅوی)، نو په هغه کښی سود یعنی نفع خالی عن العوض نه ده. او که بالفرض همغه ټکر (کپړه) په یو زر درهمو واخلی، بیا هم پکښی سود نشته. ځکه چه فی حد ذاته د دوی دواړو په منځ کښی موازنه او مساوات له سره نه کیږی. که د دوی له پاره کومه پیمانه او میچ وی، نو هغه به د هر یوه همغه رغبت او ضرورت او اړتیا (محتاجی) وی او په دوی کښی عموماً دومره تفاوت او توپیر (فرق) شته، چه توبه! نو که سود متعین کړ شی، نو دا تعیین به څرنګه وی؟ او که یوه درهمه په دوی درهمو باندی واخلی، نو دلته فی نفسه مساوات کیدی شی، چه یوه درهمه د یوی درهمی په مقابل کښی معین کیږی، او بله درهمه خالی عن العوض پاتی کیږی او سود ګرځی، او دغه معامله شرعاً حرامه ده.

فَمَنۡ جَآءَهٗ مَوۡعِظَةٌ مِّنۡ رَّبِّهٖ فَانۡتَهٰى فَلَهٗ مَا سَلَفَؕ وَاَمۡرُهٗۤ اِلَى اللّٰهِؕ

وَمَنْ عَادَ فَأُولَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٧٥﴾

پس هر څوک چه راشي ده ته پند له (طرفه د) رب د ده پس منع شو (له سوده) پس دی ده ته هغه شي چه پخوا ئی اخیستی دی، او معامله ئی الله ته (سپارلی شوی) ده، او هر څوک چه بیرته وګرځیده (سود ته او حلال ئی وګانه) نو دغه کسان صاحبان د اور (د دوزخ) دی، چه دوی به په دی اور کښې تل وی.

**تفسیر:** یعنی هغه سود چه له حرمت څخه ئی پخوا مو اخیستی دی په دنیا کښې د هغه د استرداد امر د هغه خاوند ته نه ورکاوه کیږی، یعنی تاسی حق نه لرئ چه د هغه مطالبه وکرئ، او په آخرت کښې **حق سبحانه و تعالیٰ** اختیار لری چه هغه پخپل فضل او مرحمت سره وبخښی. خو وروسته له حرمته که بیا هم څوک د سود له اخیستلو څخنی لاس وانخلی، بلکه بی پروا ئی وخوری، نو هغه دوزخی دی، او د الله تعالیٰ د حکمونو په مقابل کښې د خپلو عقلی دلیلونو د وړاندی کولو سزا ئی همغه ده چه پاک الله ئی فرمائی.

يَمْحَقُ ٱللَّهُ ٱلرِّبَوٰا۟ وَيُرْبِى ٱلصَّدَقَٰتِ ۗ

ورک کوی الله (برکت د) سود او زیاتوی (ثواب د) خیراتونو،

**تفسیر:** الله تعالیٰ د سود مال نابود او پوپنا (تباه) کوی. یعنی په هغه کښې هیڅ خیر او برکت نه وی. بلکه د هغه اصل مال هم ضائع کیږی. کله چه د حضرت نبوی صلی الله علیه وسلم په حدیث کښې راغلی دی، چه «د سود مال په هره اندازه چه زیات شی، آخر ئی افلاس او تاوان دی.» او د خیرات د مال له زیادت څخنی دا مطلب دی چه په هغه مال کښې زیادت راځی، او پاک الله په هغه کښې خیر او برکت پردی او د هغه ثواب ډیروی لکه چه په احادیثو کښې هم راغلی دی.

وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ ﴿٢٧٦﴾

او الله دوستی نه کوی له هر سخت کافر ګنهګار سره (بلکه دغه ناشکر د حرامو حلالوونکی معذبوی هم).

**تفسیر:** مطلب دا چه سود او سوائی اخیستونکی سره له ماله او شتو دومره نه کوی چه

محتاجانو ته بی له سوده حسنه پور (قرض) ورکری. حال دا چه په ده باندی دا لازم ؤ چه هغه ئی د خیرات په توګه (طریقه) حاجتمندو خلقو ته ورکړی وی، نو اوس له دی څخنی زیات د الله تعالیٰ د نعمتونو ناشکری او کفران به څه وی؟.

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٧٧﴾

بیشکه هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی (په ټولو مؤمن به شیانو) او کوی دوی ښه (عملونه) او قائموی دوی (سم اداء کوی سره له ټولو حقوقو په ترتیب) لمونځ او ورکوی دوی زکوة شته دوی لره اجر (ثواب) د دوی په نزد د رب د دوی، او نشته (هیڅ ډول (طریقه)) ویره په دوی باندی او نه به دوی (هیڅکله) غمجن کیږی (د ثواب په نقصان سره).

**تفسیر:** په دی آیت کښی د سود او سوائی اخیستونکی په مقابل کښی د ایماندارانو صفتونه، او د هغو انعامونو ذکر کوی چه د سود اخیستونکی له حالاتو، اوصافو، عاقبت او حکمونو څخنی مخالف دی، چه په هغه سره د سود اخیستونکی پوره تهدید او تشنیع هم ښکاره شوه.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿٢٧٨﴾

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو!) وویریږئ له الله نه او پریږدئ هغه چه پاتی شوی دی له سوده که یئ تاسی مؤمنان (یقین لرونکی په شریعت په رښتیا سره).

**تفسیر:** یعنی پخوا له دی ممانعت څخنی څه سود او سوائی مو چه اخیستی ده بلا پسی، خو وروسته له دی ممانعته هغه سود چه اوښتی دی مه ئی اخلئ.

فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَإِنْ تُبْتُمْ

فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَالِكُمْ لَا تَظْلِمُونَ وَلَا تُظْلَمُونَ ﴿٢٧٩﴾

پس كه ونه كړ تاسي (دا كار) نو آګاه شئ (او ځان تيار كړئ) تاسي په جنګ له (طرفه د) الله او رسول د ده، او كه توبه ګاره شوئ تاسي (له اخيستلو د سوده) نو شته تاسو لره اصل د مالونو ستاسي مه كوئ تاسي ظلم (چه سود به هم غواړئ) او نه دى ظلم كاوه شى پر تاسي (چه له رأس المال څخه مو څه ستون كړى شي).

**تفسير:** يعنى هغه پخوانى سود مو چه اخيستى دى كه هغه به خپل رأس المال كښى حساب او له رأس المال څخنى ئى كم كړئ، نو پر تاسو باندى ظلم او تيرى كيږى. او وروسته له ممانعته كه تاسى هغه اوښتى سود وغواړئ، نو دا ستاسى ظلم دى.

وَإِن كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيْسَرَةٍ ۚ وَأَن تَصَدَّقُوا خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٢٨٠﴾

او كه ؤ پور وړى (قرض وړونكى) خاوند د نادارى نو پر تاسي دى انتظار پور وړى (قرض وړونكى) ته تر وخته د پراخى - د پور وړى (قرض وړونكى) او دا چه ببښنه وكړئ تاسي (دى پور وړى ته)، خير (ډيره بهتره) ده تاسي ته كه يئ تاسي چه پوهيږئ (په هغه خير).

**تفسير:** يعنى كله چه د سود ممانعت وشو، او د هغه اخيستل او وركول موقوف شول، نو اوس تاسي خپل پور (قرض) له مفلس پوروړى څخنى درګرده غواړئ داسي غوښتنه نه ده په كار بلكه ناداره لره مهلت وركړئ! او كه مو د لاسه كيږى هغه پور (قرض) وروبخښئ!.

وَاتَّقُوا يَوْمًا تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى اللَّهِ ۖ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٢٨١﴾ ع

او وويريږئ تاسي له (عذابه د) هغى ورځى چه بيرته بيول كيږئ تاسي په هغى كښى طرف د الله ته بيا به پوره وركړى شي هر نفس ته (جزا) د هغه عمل

چه (ده له خيره يا شره) کړی وی او په دوی به ظلم ونه کړ شی ( د عذاب په ډيروالی يا د ثواب په لږوالی سره).

**تفسير:** يعنی په قيامت کښی به د ګردو (ټولو) اعمالو جزا او سزا ورکوله کيږی، نو اوس دی هر څوک فکر وکړی چه ښه کار کوی که بد؟ ګټه او سود اخلی؟ يا خيرات ورکوی؟
(د «البقرة» د سورت ګرد (ټول) آياتونه مدنی دی پرته (علاوه) له دی آيت څخه چه مکی دی او په حجة الوداع کښی په «منٰی» کښی نازل شوی دی او وروسته له دی نه بل کوم آيت نه دی نازل شوی او رسول الله صلی الله عليه وسلم وفات شوی دی).

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَدَايَنتُم بِدَيْنٍ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى فَاكْتُبُوهُ ۚ وَلْيَكْتُب بَّيْنَكُمْ كَاتِبٌ بِالْعَدْلِ ۚ وَلَا يَأْبَ كَاتِبٌ أَن يَكْتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ اللَّهُ ۚ فَلْيَكْتُبْ وَلْيُمْلِلِ الَّذِي عَلَيْهِ الْحَقُّ وَلْيَتَّقِ اللَّهَ رَبَّهُ وَلَا يَبْخَسْ مِنْهُ شَيْئًا ۚ

ای هغو کسانو چه ايمان ئی راوړی دی (يعنی ای مؤمنانو!) کله چه يو له بله سره معاملی کوئ تاسی په پور (قرض) سره تر نيتی ټاکلی (مقرر کړی) شوی پوری نو وليکئ تاسی هغه (پور- قرض)!، او ودی ليکی (کاغذ د پور- قرض) په منځ ستاسی کښی يو کاتب په عدل (انصاف سره واقعاً نه کم او نه زيات) او منع دی نه راوړی (هيڅ يو) کاتب (د دی کاغذ) له ليکلو څخه (او ښائی چه وليکی دا معامله) هغسی چه ښوونه کړی ده کاتب ته الله نو ودی ليکی، او بيان دی وکړی (کاتب ته) هغه څوک چه په ده باندی حق (پور- قرض) دی او ودی ويريږی (کاتب) له الله چه رب د ده دی او نه دی کموی له هغه (حقه) هيڅ شی، (يعنی دی دی هم په اقرار کښی هيڅ زياتوالی او کموالی، تغير او تبديل نه کوی).

**تفسير:** پرومبی ئی د صدقاتو او خيراتونو فضيلت، او د هغو د احکامو بيان وکړ. وروسته له هغه ئی د (سود) حرمت او مذمت وکړ، او اوس د پور (قرض) اخيستلو او پور (قرض) ورکولو، او د حجت ليکلو، او د پور (قرض) د بيرته ور رسولو نيته تر راتلونکی مودی پوری، او د نورو لار ښوونه کيږی. او د پور (قرض) په نسبت داسی معلوميږی چه دا ډول (طريقه) معامله جائزه

ده، مګر هر کله چه دا معامله په راتلونکي مودې پورې اړه (احتیاج) لري، او د هیرې، مړینې (مرګ)، نشتوالي او د نورو جنګ جګړې احتمال هم پکښې شته، نو ځکه ضروري ده چه د هغې د تأدیبي نیته په داسې اهتمام سره وتاکله (مقرره) شي! چه وروسته له هغه داسې کومه جګړه او مخالفت پکښې پېښ نشي، او د هغې صورت هم دا دی چه دا خبره پر یوه کاغذ باندې ولیکي، او د بیرته وررسولو نیته وتاکله (مقرره) شي!. او د پور (قرض) ورکوونکي او پوروړي (قرض وړونکي) نومونه او ښکاره پیژندګلوي، او د هغې معاملې پورې نور تړلي تفصیلات او لازمي خبرې په صاف او ښکاره ډول (طریقه) سره ولیکلې شي!. او لیکونکی (کاتب) لره ښائي چه بې له انکاره همغسې چه د شرعي شریفې حکم دی له هغه سره ئې سم او برابر ولیکي! او له عدل او انصاف څخه لرې نه شي! ښه خو دا دی چه دا حجت پخپله پوروړی (قرض وړونکی) پخپل قلم سره ولیکي! یا ئې لیکونکي ته ووائي، چه هغه ئې سم د ده له وینا سره ولیکي، او د بل چا په حق کښې هیڅ ډول (طریقه) نقصان او تاوان پېښ نه کړي!.

---

فَإِنْ كَانَ الَّذِي عَلَيْهِ الْحَقُّ سَفِيهًا أَوْ ضَعِيفًا أَوْ لَا يَسْتَطِيعُ أَنْ يُمِلَّ هُوَ فَلْيُمْلِلْ وَلِيُّهُ بِالْعَدْلِ ۚ

---

پس که ؤ هغه څوک چه په ده باندې حق (پور(قرض)) دی کم عقل (مبذر، بې وقوف او لیوني) یا ضعیف لکه ووړ (معزور) یا ډیر زوړ (بوډا) یا ئې توان نه وي چه اقرار وکړي (چه ګنګ وي یا د کاتب په ژبه نه پوهیږي) دې پخپله نو بیان دې وکړي ولي (واکدار) د ده په عدل (انصاف سره چه سمه خبره ووائي نه کمه نه زیاته)،

---

**تفسیر:** یعنې هغه مدیون او پور وړی چه کم عقل یا ناپوه یا مبذر یا ضعیف یا سست یا بیرا وي لکه چه ووړ (معزور) یا زوړ، او د معاملې د پوهیدلو پوهه نه لري، یا د هغې معاملې لازمي خبرې لیکونکي ته نشي ویلي (لکه چه ګونګی وي یا د کاتب په ژبه نه پوهیږي) نو په داسې صورت کښې د مدیون ـ واکدار یا وارث یا ولي یا وصي دې هغه معامله په عدل او انصاف سره بې له زیاتوالي او کموالي پای (اخر) ته ورسوي! او لیکونکي ته دې ووائي چه وئې لیکي.

---

وَاسْتَشْهِدُوا شَهِيدَيْنِ مِنْ رِجَالِكُمْ ۖ فَإِنْ لَمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ مِمَّنْ

تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَآءِ أَنْ تَضِلَّ إِحْدٰىهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحْدٰىهُمَا الْأُخْرٰى ط

او شاهد ونیسئ تاسی (په خپلو معاملو کښې) دوه شاهدان له سړیو ستاسی (چه مسلمانان، عاقلان، بالغان او اصیلان وی) پس که نه وو دوه نارینه (شاهدان) نو یو سړی دی وی او دوه ښځی له هغو کسانو چه تاسی تری راضی یئ (د عدالت له کبله (وجی)) له شاهدانو (د ښځو دا تعدد د دی له پاره دی که) هیره کړی (دا شاهدی) یوه له دی دواړو نو ور په یاد به کړی هغه یوه له دی دواړو (چه ور په یادوی) هغی بلی (هیر زړی ته)،

**تفسیر:** او تاسی ته ښائی چه په دی معاملی کښې لږ تر لږه دوه نارینه یا یو نارینه او دوی ښځی شاهدانی ونیسئ! (ځکه چه په ښځو کښې عقل کم او هیره ډیره ده). او شاهد هم ښائی د غوره کولو وړ (لائق) یعنی لائق د اعتماد او د اعتبار خاوند وی (له سړیو ستاسی یعنی هغه دوه تنه چه مسلمانان، عاقلان، بالغان او اصیلان وی. او د کافر شاهدی قبوله نه ده. مگر د «امام اعظم رحمة الله علیه» په نزد د یوه کافر شاهدی پر بل کافر باندی روا ده.)

وَلَا يَأْبَ الشُّهَدَآءُ إِذَا مَا دُعُوْا ط وَلَا تَسْـَٔمُوْٓا أَنْ تَكْتُبُوْهُ صَغِيْرًا أَوْ كَبِيْرًا

إِلٰٓى أَجَلِهٖ ط ذٰلِكُمْ أَقْسَطُ عِنْدَ اللّٰهِ وَأَقْوَمُ لِلشَّهَادَةِ وَأَدْنٰٓى أَلَّا تَرْتَابُوْٓا

او نه دی منع راوړی شاهدان کله چه وبلل شی دوی (شاهدی ته) او مه خوابدی کیږئ (ای معامله دارانو!) له دی چه ولیکئ دا (حق که) لږ وی او که ډیر وی تر نیتی د هغی پوری، دا (لیکل) ستاسی پوره عدل دی په نزد د الله او ښه مرسته (مدد) کوونکی (ډیر محکم) دی دپاره (د اداء) د شاهدی او ډیر نژدی دی ته چه شکمن نه شئ تاسی (د دی معاملی په نیته او مقدار کښې).

**تفسیر:** یعنی هر کله چه څوک د شاهد کیدلو یا د شهادت د اداء کولو دپاره وغوښت شی، نو منع دی نه راوړی او نه دی انکار او پکښې سستی کوی!، او ښائی چه د معاملاتو په لیکلو کښې هیڅ ډول (قسم) قصور او اهمال ونه کړ شی! (تر دی چه نیته دی هم پکښې ولیکلی شی!) عام له دی نه چه هغه معامله وړوکی وی ـ که لویه، ځکه پوره عدل او انصاف په هم دی

کښی دی او په شهادت کښی هم زیات داډ په هم دی لیک باندی دی، او د نه هیریدلو او نه تیروتلو او د هیچا د حق د نه ضایع کیدلو اطمینان او تسلی هم په هم دغه لیک باندی دی.

إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً حَاضِرَةً تُدِيرُونَهَا بَيْنَكُمْ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَلَّا تَكْتُبُوهَا ۗ وَأَشْهِدُوٓا۟ إِذَا تَبَايَعْتُمْ ۚ وَلَا يُضَآرَّ كَاتِبٌ وَلَا شَهِيدٌ ۚ

مګر که وی (دا معامله) ستاسی تجارت په حضور (لاس په لاس) چه چلوئ ئی تاسی (په راکړه او ورکړه سره) په خپلو منځو کښی پس نشته پر تاسی باندی هیڅ ګناه چه ونه لیکئ تاسی دا (معامله) او شاهدان ونیسئ تاسی! کله چه یو له بل سره پلورل (اخیستل) یا پیرودل (خرخول) «بیع او شری» کوئ تاسی او نه دی رسوی نقصان کاتب او نه شاهد، (یعنی په کتابت او شهادت کښی دی څه زیاتوالی او کموالی نه کوی - یا) او ضرر دی نه رسولی شی کاتب ته او نه شاهد ته (یعنی که معذور وی زور دی پر هیچا ونه کړ شی.)

**تفسیر:** یعنی که د سوداګری معامله لاس په لاس وی. د جنس په بدل کښی جنس یا نغده معامله وی - او د پور (قرض) معامله نه وی، نو په دی صورت کښی ئی نه لیکل، وبال نه دی خو شاهد نیول په هسی معاملو کښی ضرور دی چه په هغی کښی وروسته له دی نه کومه جګړه او جنجال پیښ نشی او ښائی چه لیکونکی او شاهد هیچا ته کوم ربړ (تکلیف) او تاوان ورپیښ نه کړی یعنی نه دی مدعی او نه دی مدعی علیه ته څه نقصان او تاوان رسوی، بلکه همغه حق دی اداء کړی چه د ده په غاړه واجب دی (او هم داسی کاتب او شاهد ته دی هم څه ضرر نه رسوی.)

وَإِن تَفْعَلُوا۟ فَإِنَّهُۥ فُسُوقٌۢ بِكُمْ ۗ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۖ وَيُعَلِّمُكُمُ ٱللَّهُ ۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٢٨٢﴾ وَإِن كُنتُمْ عَلَىٰ سَفَرٍ وَلَمْ تَجِدُوا۟ كَاتِبًا فَرِهَٰنٌ مَّقْبُوضَةٌ ۖ فَإِنْ أَمِنَ بَعْضُكُم بَعْضًا فَلْيُؤَدِّ ٱلَّذِى ٱؤْتُمِنَ أَمَٰنَتَهُۥ وَلْيَتَّقِ ٱللَّهَ رَبَّهُۥ ۗ وَلَا تَكْتُمُوا۟ ٱلشَّهَٰدَةَ ۚ وَمَن يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُۥٓ ءَاثِمٌ قَلْبُهُۥ ۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿٢٨٣﴾

او که وکړ تاسي (دا کار د اضرار) نو بیشکه دا ګناه ده (لاحقه) په تاسي پورې، او وویرېږئ تاسي له الله نه، او ښوونه (د احکامو) کوي تاسي ته الله او الله په هر شي باندې ښه عالم دی. (او ګرد (تول) شیان ورته ښه معلوم دي) او که یئ تاسي په سفر باندې او ومو نه مونده کوم کاتب نو (واخلئ) ګروي قبض کړې شوي پس که امین (معتبر) وګڼل ځینو ستاسي ځیني (نور، چه ګروي ئې وانه خیستله) نو اداء دي کړي هغه څوک چه امین ګرځولی شوی وي امانت د ده (یعنی د پور (قرض) ورکوونکي) او ودې ویرېږي له الله څخه چه رب د ده دی او مه پټوئ شهادت (ای شاهدانو یا ای مدیونانو! چه ګویا اقرار هم په خپل ځان باندې شاهدي ده) او هر چا چه پټه کړه دا (شاهدي) نو بیشکه دی ګنهګار دی زړه د ده او الله په (هغو کارونو) چه کوئ (ئې تاسي) ښه عالم دی. (او هر شي ښه ورته معلوم دی).

---

**تفسیر:** یعني که په سفر کښې د قرض او پور معامله درپېښه شي او حجت او سند لیکلو ته موقع او فرصت نه وي او لیکونکی مو په لاس درنشي نو پوروړی (قرض وړونکی) دې د خپل پور (قرض) په عوض کښې کوم شي ګرو (ګانه) ورته کیږدي.

**فائده:** په «سفر» کښې د «حضر» په نسبت ګروي (ګانې) ته زیات ضرورت پېښېږي ځکه لیکل او شاهدي په «حضر» کښې په آساني سره صورت موندلی شي او پور (قرض) ورکوونکي ته په آساني سره اطمینان او تسلي پیدا کیږي نو ځکه په سفر کښې د «رهن» او ګروي (ګانې) اخیستلو حکم وشو. که نه په «حضر» او د لیکونکي او د شاهدانو په موجودیت کښې هم د ګروي (ګانې) اخیستل روا دي. لکه چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي که پور (قرض) ورکوونکي پخپل پور وړي (قرض وړونکي) باندې اطمینان او اعتبار لري ـ او پرې داده وي، او ترې ګروي (ګانه) ونه غواړي، نو پر پور وړي باندې لازم دي چه د پور (قرض) د خاوند حق پوره او کامل اداء کړي! او له الله تعالیٰ جل جلاله ځني دې وویرېږي! او د حق د خاوند په حق کښې دې په امانت سره معامله وکړي!

---

لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَاِنْ تُبْدُوْا مَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ اَوْ تُخْفُوْهُ

يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللّٰهُ ؕ فَيَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ

وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۲۸۴﴾

(خاص) الله لره دی هر هغه څه چه په آسمانونو کښې دی او هر هغه څه چه په ځمکه کښې دی. (له موالیدو، عناصرو او نورو تولو علویاتو او سفلیاتو، سره له آسمانو او ځمکی ملکاً و خلقاً و عبیداً) او که ښکاره کړئ تاسی هغه (ارادی او بدنیتونه) چه په زړونو ستاسی کښې دی یا پټ کړئ تاسی هغه، حساب به وکړی له تاسی سره په هغه باندی الله پس مغفرت کوی هغه چاته چه اراده وکړی (الله د مغفرت ئی) او په عذابوی به هغه څوک چه اراده وکړی (الله د عذابولو ئی) او الله په هر شی باندی ښه قادر دی (له ثوابه او عقابه او حسابه هم)

---

**تفسیر:** الله تعالیٰ په دی سورت کښې د اصولو او فروعو، عباداتو او معاملاتو، او د بدنی او مالی هر راز (قسم) احکامو بیان پوره وکړ او ښائی چه دی مبارک سورت ته «**سنام القرآن**» په هم دی سبب ویلی شوی وی. نو ځکه مناسب دی چه بندګانو لره هم پوره تاکید او تهدید له هر لوری ورکړ شی، چه د ذکر شویو احکامو په تعمیل او کولو کښې هیڅ ډول (طریقه) قصور او کوتاهی رانشی. او له تولو مناهیو څخنی ځان وژغوری (وساتی). دا دی چه د «**البقرة**» د سورت په آخر کښې ئی وروسته د احکامو له ارشاد دا آیت د تهدید او تنبیه په ډول (طریقه) سره ارشاد وفرمایه، او د ګردو (تولو) ذکر شویو تیرو احکامو په تعمیل او کړو باندی ئی تول سره مجبور او مامور کړل هم دا راز (شان) هغه کسان چه په نکاح، طلاق، قصاص، زکوة، بیع، شری، ربوا او نورو کښې زیاتره له خپلو جوړو کړیو پلمو (منصوبو) او تدبیرو څخنی کار اخلی، او ناروا شیان روا ګڼی، او د هغو په روا ګرځولو کښې له خپل فکر او خیال څخه نه اوړی، او هر څه ئی چه زړه غواړی همغه کوی، هغوی ئی هم پوره تنبیه او تهدید کړل. هغه پاک ذات چه پر مونږ باندی د عبادت استحقاق لری ښائی چه مالک وی. هغه ذات چه زمونږ د تولو پټو او ښکاره ؤ کارونو حساب او کتاب اخیستی شی، ښائی چه په ګردو (تولو) امورو باندی ښه «علیم» او «خبیر» وی. او هغه ذات چه زمونږ د تمامو شیانو حساب اخیستی شی او مونږ ته د ښو او بدو چارو په مقابل کښې جزا او سزا راکولی شی، ښائی چه په ګردو (تولو) شیانو باندی قدرت ولری او ښه قادر وی. نو دلته ئی بیا هم دا دری واړه کمالات بیان کړل. چه هغه «ملک ـ علم ـ قدرت» دی او د هم دی صفاتو ذکر ئی په «آیت الکرسی» کښې هم فرمایلی دی. مطلب ئی دا دی (**حق سبحانه و تعالیٰ**) د ګردو (تولو) شیانو مالک او خالق دی. د ده علم په ګردو (تولو) مخلوقاتو او موجوداتو باندی محیط دی. د ده قدرت پر تولو حاوی او شامل دی نو بیا د هسی مالک الملک ـ علیم ـ بصیر او قدیر ذات احکام نه منل عام له دی نه چه د الله تعالیٰ دغه نافرمانی په پته سره وی که په ښکاره سره، څرنګه به وړ (لائق) او مناسب وی؟ او بیا به دا نافرمان بنده څنګه د الله تعالیٰ له عذابه ځان ژغوری (ساتی)؟

آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ ۚ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِ ۚ وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ۖ غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ ﴿۲۸۵﴾

تصديق (باور) كړى دى رسول په هغه شي چه نازل كړى شوى دى ده ته له (طرفه د) رب د ده او مؤمنانو (هم تصديق او باور كړى دى). تولو (د دوى) تصديق (باور) كړى دى په الله باندى او په پرښتو د ده او په كتابو د ده او په رسولانو د ده (په داسى حال كښى چه وائى دوى) فرق نه كوو په منځ د هيڅ يو (رسول) له رسولانو د الله كښى. او وائى (رسول الله او مؤمنان). واوريده مونږ (پيغام ستا) او قبول كړ مونږ (حكم ستا غواړو). مغفرت ستا اى ربه زمونږ او (خاص) تا ته دى درتلل (د هر چا).

**تفسير:** كله چه له ړومبى آيت څخه دا خبره ښكاره شوه چه د هغو خبرو هم پوښتنه او حساب آخيستل كيږى چه په زړونو كښى ګرځى نو اصحاب الكرام رضى الله عنهم وويريدل، او له دى آيت څخى داسى زيات متأثر شول، چه د هغه په شان له هيڅ يوه بل آيت څخى نه وو متأثر شوى نو دوى پاک رسول صلى الله عليه وسلم ته شكايت ور ووړ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ﴿وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا﴾ يعنى كه څه سختى مو په نظر درځى يا څه خپګان درپيښ شي نو د حق تعالىٰ د دى امر او ارشاد په منلو او تسليم كښى لږ څه توقف او ډيل مه كوئ! او د زړه له اخلاصه عرض ورته وكړئ چه ﴿سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا﴾ دوى د حضرت رسول الله صلى الله عليه وسلم امر او ارشاد سره سم كار وكړ، نو دغه كلمات د زړه د انشراح په توګه (طور) د دوى پر ژبو باندى جارى شول، چه د هغه مطلب دا دى مونږ ايمان لرونكى يو پر الله تعالىٰ (چه واحد، احد، صمد، لاشريک له، ازلى، ابدى، د كمال په تولو صفاتو موصوف. او له هر عيب او نقصان څخه پاک دى) او ايمان لرونكى يو پر ملائكو د الله چه مقربى بندګانى د الله تعالىٰ دى، نه ذكور دى، نه اناث او د الله تعالىٰ ډيرى مطيعى او حكم منونكى، او يوه طرفة العين هم د الله تعالىٰ له عبادت، تسبيح او تقديس څخه نه غافليږى او ايمان لرونكى يو په تولو كتابونو د الله تعالىٰ چه تول حقانى او قديمى دى ځكه چه د الله تعالىٰ ګرد (تول) صفات ازلى، قديمى او ابدى دى، او دغه تول كتابونه د الله تعالىٰ له طرفه ليږل شوى دى. او ايمان لرونكى يو په رسولانو د الله چه ګرد (تول) په حق دى او بيخى له دروغو معصوم دى، هر څه چه وائى او راوړى ئى دى، هغه تول له الله، جل جلاله څخه دى، او فرق نه كوو مونږ په اصل د رسالت كښى په منځ د هيڅ يو

له دغو رسولانو او د الله تعالیٰ د حکم اطاعت مو وکړ ـ یعنې خپگان، خطره او نورې گردې (تولی) خرخشې (بدخیالی) مو پریښودې، او د الله تعالیٰ ارشاد مو تعمیل کړ، او د هغه د پاره مو خپله تیاری او چمتوالی (تندی) ښکاره کړ حق تعالیٰ دا خبره قبوله کړه نو دا دواړه آیتونه نازل شول. اول ﴿ اٰمَنَ الرَّسُوْلُ ﴾ الآیة ـ چه حق سبحانه وتعالیٰ په ده کښې د حضرت رسول صلی الله علیه وسلم او وروسته له هغه د ده د هغو اصحابو چه هغوی ته ذکر شوی تشویش پیښ شوی ؤ او په دی سره ئی دفع وشوه د ایمان مدح او ستاینه (صفت) په تفصیل سره وفرمایله چه له هغې څخه د هغوی زړونه داده او اطمینان ئی ترقی وکړی او هغه پخوانی ـ خطری او خرخشې (بدخیالی) ئی ورکې شي. او وروسته له دی نه په بل آیت کښې چه ﴿ لَا یُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا ﴾ الآیة ـ دی فرمائی چه له توان او مقدوره زیات هیچا ته تکلیف نه ورکاوه کیږی. او که د چا په زړه کښې د گناه خیال یا کومه خطره وگرځی، خو په هغه باندی عمل نه کوی، نو پر ده باندی هیڅ گناه نشته او سهو او تیرواته ئی هم معاف دی. لنده ئی دا چه صاف ئی وفرمایل چه له هغو خبرو ځنی چه ځان ژغورل (ساتل) تری سخت دی. لکه د خراب کار خیال، خطره، تیرواته او سهو په هغو باندی هیڅ مواخذه نشته. هو په هغو خبرو باندی چه د بنده په واک (قبضه) او اختیار کښې دی نیول کیږی. نو پخوانی آیت چه ورځخه د اصحابو تشویش پیدا شوی ؤ ښائی چه د هغه معنی هم د دوهمی قاعدی سره سمه واخیستله شي، لکه چه هم داسې هم وشوه، او دغه یاده شوی خطره داسې بیخی له منځه لاړه چه سبحان الله!.

**(فائده):** له دی چه «نه کوو فرق په منځ د هیڅ رسول له رسولانو د الله کښې» دا مطلب دی چه مونږ د یهودانو او نصرانیانو په شان نه یو، چه هغوی یو رسول منی او بل رسول نه منی.

---

لَا یُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا ؕ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَیْهَا مَا اكْتَسَبَتْ ؕ
رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَاۤ اِنْ نَّسِیْنَاۤ اَوْ اَخْطَاْنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَیْنَاۤ
اِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهٗ عَلَى الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ
لَنَا بِهٖ ۚ وَاعْفُ عَنَّا ٙ وَاغْفِرْ لَنَا ٙ وَارْحَمْنَا ٙ اَنْتَ مَوْلٰىنَا فَانْصُرْنَا
عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِیْنَ ﴿۲۸۶﴾

---

نه کوی تکلیف الله پر هیڅ نفس باندی مگر «په اندازی د» طاقت د ده «دی» دی نفس لره «ثواب د» هغه «عمل» چه کړی «ئی» دی او «شته» په

ده باندی «وبال» د هغه «عمل» چه کړی «ئی» دی. ای ربه زمونږه! مه نیسه مونږه که هیر کړو «حکم ستا» یا په خطا سره وکړو «گناه» ای ربه زمونږه! او مه باروه پر مونږ باندی دروند بار! لکه چه بار کړی ؤ تا دغه «بار» پر هغو کسانو باندی چه وو پخوا له مونږه ای ربه زمونږه! او مه باروه پر مونږ باندی هغه (تکلیف) چه نه وی هیڅ طاقت مونږ ته په هغه سره او محوه کړه «گناهونه» له مونږه او مغفرت وکړه مونږ ته، او رحم وکړه پر مونږ باندی، هم ته ئی مولیٰ «مددگار» زمونږ ـ نو مدد وکړه له مونږ سره! پر قوم کافرانو باندی.

---

**تفسیر:** په ړومبنی آیت کښی لویو اصحابو رضی الله تعالیٰ عنهم ته ډیره پریشانی ورپیښه شوی وه، نو د هغوی د تسلئ او داډ لپاره دا دوه آیتونه نازل شول، چه ﴿آمَنَ الرَّسُولُ﴾ الآیة ـ او ﴿لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا﴾ الآیة ـ دی او وروسته له هغه څخه د ﴿رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا﴾ څخه نیولی د دی سورت تر پایه پوری داسی دادینه (تسکین) او تسلی راکړی شوی ده، چه د هغه په لوستلو سره د هیڅ یو راز تکلیف او سختی، هیڅ یوه اندیښنه او خرخشه (بد خیال) نه دی پاتی ځکه په هغو دعاؤ او غوښتنو سره چه مونږ مامور شوی یو، د هغو مقصود دا دی چه «بیشکه ته پر مونږ باندی د هر ډول (طریقه) حکومت حق او د عبادت استحقاق لری. مگر ای زمونږ ربه! ښائی پخپل رحمت او کرم سره مونږ ته داسی حکم صادر کړی چه د هغه کول (تعمیل) پر مونږ باندی سخت او دروند نه وی، او نه مونږ په تیروتلو او سهو باندی ونیسی! او نه د پخوانیو امتونو په شان پر مونږ باندی شدید حکمونه نازل کړی! او نه زمونږ له طاقته څخنی زیات کوم حکم پر مونږ مقرر کړی! سره له هسی آسانی او سهولته که له مونږ څخنی کومه خطا او تقصیر څرگند شی له هغه څخنی ته راتیر شه! او ومو بخښه، او پر مونږ رحم وکړه!» په حدیث کښی راغلی دی چه دا گردی (تولی) دعاوی ومنلی شوی، او په هغو سختیو پسی چه لویو اصحابو رضی الله تعالیٰ عنهم ته ورپیښی شوی وی اوس د الله تعالیٰ په فضل او کرم او رحمت سره زمونږ له هری یوی سختی او ربړ (تکلیف) څخنی داډ، امن او سلامتی په برخه شوی ده نو اوس مونږ د دومره یوی خبری هیلمن (امیدوار) یو چه د پاک الله په فضل او کرم سره په کفارو باندی هم بری ومومو، او پاک الله دی پر مشرکینو باندی هم مونږ ته بری او غلبه راعنایت کړی! که نه د دوی له لوری راز راز (قسم قسم) ربړونه (زحمتونه) او تکالیف، دینی او دنیوی هر ډول (طریقه) زحمتونه راوړاندی کیږی او له هغه صعوبت او سختی څخنی چه د الله تعالیٰ په فضل او کرم سره ژغورلی (ساتلی) شوی یو، د کفارو د غلبی په حالت کښی به بیا همغه اندیښنه او خرخشه (بد خیال) زمونږ د سودا او خپگان موجب گرځی.

**تمت سورة «البقرة» بفضل الله رب البریة ـ یا من لک الکبریاء فی الدنیا والاخرة ادخلنا بکرمک فی عبادک الکرام البررة**

---

(سورة آل عمران مدنية وهى مائتا آية وعشرون ركوعا، تسلسلها ۳ ورقم نزولها ۸۹ نزلت بعد الانفال)

د آل عمران سورت مدنی دی. دوه سوه آیتونه او شل رکوع لری په تلاوت کښی دریم او په نزول کښی ۸۹ سورت دی
د «الانفال» له سورت څخه وروسته نازل شوی دی

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

الٓمّٓ ① اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَیُّ الْقَیُّوْمُ ②

الله «چه دی» نشته هیڅوک لایق د عبادت مګر هم دی دی چه تل ژوندی په یو حال باقی، قایم، کامل، تدبیر والا دی.

**تفسیر:** د نجران د عیسایانو یوه شپیته کسیزه مؤقره او معززه جرګه د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښی حاضره شوه. په دوی کښی دری تنو ډیر شهرت او امتیاز درلود (لرلو). (۱) عبدالمسیح عاقب په امارت او سیادت کښی (۲) ایهم السید په رأیه او تدبیر کښی (۳) ابو حارثه بن علقمه په مذهبی علومو کښی د نصرانیانو لوی عالم. (ابو حارثه) اصلاً د عربو له مشهوری قبیلی (بنی بکر بن وائل) سره تعلق درلود (لرلو)، بیا پوخ نصرانی شو. د روم سلاطینو د ده د مذهبی صلابت، مجد او شرف د لیدلو له امله (وجی) ئی زیات تعظیم او تکریم کاوه. او ډیره مالی مرسته (مدد) ئی ورسره کوله، او یوه کلیسا ئی ورته جوړه، او د مذهبی چارو په اعلیٰ منصب ئی مامور کړی ؤ. دا جرګه د رسالت په دربار کښی په ډیر شان او شوکت سره حاضره شوه او په متنازع فیها مسایلو کښی ئی له رسول صلی الله علیه وسلم سره خبری وکړی، چه د هغو پوره تفصیل د محمد بن اسحٰق رحمة الله علیه په «سیرت» کښی منقول دی.
د آل عمران د سورت اتیا، یا نوی ړومبنی آیتونه د دی واقعی په نسبت نازل شوی دی د عیسایانو ړومبنی او بنیادی عقیده دا وه چه مسیح علیه السلام کتمت (هو بهو) پخپله خدای یا د خدای زوی او یا یو له دریو خدایانو څخنی دی، (معاذالله).
د دی سورت په ړومبنی آیت کښی د پاک الله د خالص توحید ذکر راغلی دی، او د هغه د «حی» او «قیوم» کوم صفات چه ذکر شوی دی په هغو سره د عیسایانو دعوی په ښکاره ډول (طریقه) باطله شوی ده لکه چه زمونږ پاک رسول صلی الله علیه وسلم د مناظری په دوران کښی دوی ته وفرمایل «آیا تاسی نه پوهیږئ چه الله تعالیٰ حی (ژوندی) دی، او هغه لوی ذات ته مرګ

هیڅکله نه پیښیږی، او پاک الله ګردو (تولو) مخلوقاتو ته وجود ورکړی دی او د دوی د ژوندانه اسباب ئی ورپیدا کړی دی. او پخپل کامل قدرت سره د دوی ساتونکی او اداره کوونکی دی. په خلاف د دی په حضرت عیسیٰ علیه السلام باندی به د مرګ او فنا وار خامخا راتلونکی وی. او دا یوه ښکاره خبره ده هغه څوک چه خپله هستی او ژوندون نشی ساتلی، نو د نورو مخلوقاتو ژوندون او هستی به په څه دول (طریقه) سره وساتلی شی؟ هر کله چه هغو نصرانیانو، زمونږ د پاک رسول صلی الله علیه وسلم دا وینا واوریده، نو ګردو (تولو) سره وویل بیشکه رښتیا ده! ښائی چه دوی به دا غنیمت ګڼلی وی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپله اعتقاده سره سم د عیسیٰ یأتی علیه الفناء سوال کوی. یعنی په عیسیٰ علیه السلام باندی هرو مرو (خامخا) فنا راتلونکی ده. که ئی مونږ ځواب په نفی سره ورکړو، نو رسول صلی الله علیه وسلم زمونږ د عیسایانو له عقیدی سره سم چه «دیره موده کیږی چه حضرت عیسیٰ علیه السلام مړ شوی دی» مونږ په صریح دول (طریقه) سره لا زیات ملزم، مفحم او ساکتولی شی. نو ځکه ئی مصلحت ونه لید چه په لفظی مناقشه کښی خپل ځانونه وغورځوی. او ممکن دی چه دا نصرانیان له هغو فرقو څخنی وی چه له اسلامی عقیدی سره سم د مسیح علیه السلام له قتل او صلب څخنی قطعاً انکار کوی، او د جسمانی رفعی قائلان دی. لکه چه حافظ ابن تیمیه رحمة الله علیه په «الجواب الصحیح» کښی، او د «الفارق بین المخلوق والخالق» مصنف تصریح کړی ده، چه د شام او د مصر نصرانیان پرومبی په عمومی دول (طریقه) سره په هم دی عقیدی باندی وو، وروسته له دیری زمانی (پولوس) نومی د «صلب» د عقیدی اشاعت وکړ. بیا دا خیال له یورپ څخه مصر او شام او نورو ځایو ته ورسید په هر حال د نبی کریم صلی الله علیه وسلم له لوری د «ان عیسیٰ أتی علیه الفناء» په ځای د «یأتی علیه الفناء» فرمایل په داسی حال کښی چه په پرومبنی جمله کښی سره د مسیح د الوهیت تردید په ښه دول (طریقه) سره کیږی، او په هغه موقع کښی ښه ښکاره او مسکت جواب کیده، دا خبره ښکاره وی چه زمونږ پاک رسول صلی الله علیه وسلم د الزام په وخت کښی هم دا لازمه ونه ګڼله چه په مسیح علیه السلام باندی پخوا له مړ کیدلو د مرګ اطلاق وکړی.

---

## نَزَّلَ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ

---

نازل کړی (توته توته لیږلی) دی په تا باندی کتاب (قرآن) په حقه (په رښتینو اخبارونو او واضحو دلایلو)

---

**تفسیر:** یعنی قرآن کریم چه عین حکمت، او له مصالحو سره موافق دی، په نهایت ښه وخت کښی سره له رښتیا او انصاف راښکته شوی دی.

مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَأَنزَلَ التَّوْرَاةَ وَالْإِنجِيلَ ﴿٣﴾ مِن قَبْلُ هُدًى لِّلنَّاسِ

حال دا چه تصديق كوونكى دى د هغو «كتابونو» چه پخوا له ده نه دى او نازل كړى «يو ځلى ليږلى» دى توريت او انجيل پخوا «له دى قرآنه» له پاره د هدايت د خلقو.

**تفسير:** يعنى قرآن عظيم الشأن د پخوانيو آسمانى كتابونو تصديق كوونكى دى او هغو پخوانيو كتابونو توريت، انجيل او نورو هم لا له پخوا ځخه د پاک قرآن د نزول زيرى خلقو ته وركړى ؤ، او د ده د راوړونكى په لورى ئى خلقو ته لار ښوونه كوله، او د خپل وخت له اقتضا سره ئى سم خلقو ته احكام او هدايات وركول، ګواكى دا ئى راښكاره كړه چه د مسيح عليه السلام د «الوهيت» ياد «ابنيت» عقيده په هيڅ يوه آسمانى كتاب كښى نه وه، ځكه چه د دين د اصولو په اعتبار ګرد (تول) آسمانى كتابونه يو له بل سره متفق او متحد دى، او د مشركانو د عقائدو تعليمات په هغوى كښى نشته.

وَأَنزَلَ الْفُرْقَانَ

او نازل كړى ئى دى فرقان «يعنى هسى كتابونه چه د حق او باطل بيلوونكى دى».

**تفسير:** يعنى د هرى زمانى سره ئى سم داسى شيان رانازل كړل، چه د حق او باطل حلال او حرام ـ دروغو او رښتيا په منځ كښى فيصله كوونكى دى، په دى كښى قرآن كريم، سماوى كتابونه او د انبياؤ عليهم السلام معجزات ګرد (تول) سره داخل دى او په دى لورى هم اشاره وشوه چه په هغو مسايلو كښى چه يهودان او نصرانيان له پخوا راهيسى جګړى كوى د دى اختلافاتو فيصله هم د هم دى پاک قرآن په وسيله كيږى.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ اللَّهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ۗ وَاللَّهُ عَزِيزٌ ذُو انتِقَامٍ ﴿٤﴾

بيشكه هغه كسان چه كافران شوى دى په آياتونو د الله سره «چه قرآن او

نور حقانی کتابونه دی» شته دوی لره عذاب سخت، او الله ډیر غالب «قوی د احکامو په انفاذ» څیښتن (خاوند) د انتقام «او د سخت عذاب» دی.

**تفسیر:** یعنی داسی مجرمان نه بی سزا پاتی کیږی، او نه دوی د ده له زبردست اقتدار څخه ځان ژغورلی (ساتلی)، او نه تری تښتیدلی شی. په دی کښی هم د مسیح علیه السلام د الوهیت د ابطال په لوری یوه لطیفه اشاره وشوه، ولی هر کله چه پوره اقتدار او اختیار الله تعالیٰ لره ثابت شو نو ښکاره ده چه هغه په مسیح علیه السلام کښی نه موندل کیږی. بلکه حضرت مسیح علیه السلام به د نصرانیانو د عقیدی په اساس څرنګه وکولی شی چه نورو ته سزا ورکری، هر کله چه پخپله ده سره له زیاتی تضرع او الحاح د ظالمانو له منګلو څخنی خپل ځان ونه شو ژغورلی (ساتلی)، نو بیا دی پخپله خدای، یا د خدای ځوی څرنګه کیدی شی؟ ځوی هغه څوک باله شی چه د پلار له نوعی څخه وی، نو څکه ښائی چه د خدای جل جلاله ځوی هرومرو (خامخا) لکه خدای جل جلاله غوندی وی. یوه عاجز مخلوق ته د مطلق قادر ځوی ویل، په حقیقت کښی پر پلار او ځوی باندی سخت عیب لګول دی. العیاذ بالله

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَخْفَىٰ عَلَيْهِ شَىْءٌ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فِى ٱلسَّمَآءِ ﴿٥﴾

بیشکه الله پټ نه دی په ده باندی هیڅ شی په ځمکه او نه په آسمان کښی «د مخلوقاتو له ټولو احوالو»

**تفسیر:** یعنی همغسی چه د هغه اختیار او اقتدار کامل دی، علم ئی هم محیط دی، د ګردی (ټولی) دنیا هیڅ یو وړوکی او لوی شی د یوی سترګی د رپ (ثانئی) په اندازه هم له ده څخنی نه پټیږی. ګرد (ټول) بی ګناه او ګنهګاران، او د ګردو (ټولو) جرمونو نوعیت او مقدار، د ده په علم کښی ده. که مجرم له ده څخه وتښتی، یا ځان تری پټ کری، نو چیری به پټ شی؟ په هم دی سره تنبیه ورکره شوه چه مسیح علیه السلام خدای نشی کیدی. ځکه چه داسی یو محیط علم مسیح علیه السلام ته نه دی حاصل. مسیح علیه السلام هم دومره پوهیده چه الله تعالیٰ ورښوولی ؤ ـ لکه چه زمونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ځواب کښی هم د نجران نصرانیانو اقرار وکړ او نن د مروجو انجیلو له مخی هم ثابته ده.

هُوَ ٱلَّذِى يُصَوِّرُكُمْ فِى ٱلْأَرْحَامِ كَيْفَ يَشَآءُ ۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٦﴾

الله هغه (ذات) دی چه جوړوی صورتونه ستاسی په رحمو (د میندو) کښی په هر ډول (طریقه) چه اراده وکړی «د جوړولو ئی»، نشته بل هیڅ لایق د عبادت مګر هم دی دی ډیر غالب «قوی د احکامو په انفاذ» ښه تدبیر والا «چه هر کار په حکمت او مصلحت سره کوی»

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ له خپل علم او حکمت او کامل قدرت او کمال سره سم هر څنګه چه ئی اراده وکړه، همغسی ئی د مور په نس کښی ستاسی صورت جوړ کړ، او جوړوی ئی نارینه یا ښځه ښایسته یا بدرنګه، او څرنګه چه ئی اراده وه، پیدا کوی ئی له یوه څاڅکی اوبو څخنی په څو ډولو (طریقو) تحولاتو د بنیادم بنه (شکل) راباسی، او هغه ته پوهه او عقل ورکوی. هغه ذات چه قدرت او صنعت ئی داسی وی، نو د هغه په علم کښی به څه نقصان وی؟. یا هر هغه انسان چه ده پخپله د خپلی مور د ګیډی په څو تیارو کښی هستوګنه کړی وی، او د نورو وړوکیو غوندی خوری، او څښی، او له وړاندی او وروسته څخنی اودس ماتی ته کښینی نو داسی یو شخص ته به د پاک الله شریک یا څوی یا لمسی ویل څرنګه وی؟ ﴿ كَبُرَتْ كَلِمَةً تَخْرُجُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ إِن يَقُولُونَ إِلَّا كَذِبًا ﴾ عیسایانو به داسی پوښتنی کولی «هر کله چه مسیح علیه السلام په ښکاره ډول (طریقه) پلار نه لری، نو پرته (علاوه) له خدایه به ئی څوک پلار وی؟» نو په ﴿ يُصَوِّرُكُمْ فِي الْأَرْحَامِ كَيْفَ يَشَاءُ ﴾ کښی د دی خبری ځواب هم وشو. یعنی الله تعالیٰ قدرت لری چه په رحم کښی په هر ډول (طریقه) سره ئی چه اراده وی ـ د انسان شکل تیاروی، عام له دی چه د مور او پلار له یو ځای کیدلو څخه وی، یا که یواځی د مور د منفعلی قوی څخنی نو ځکه ئی وروسته له دی نه وفرمایل ﴿ هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴾ یعنی الله تعالیٰ هسی لوی زورور ذات دی چه د هغه قدرت هیڅ څوک نشی محدودولی او د داسی یوه حکمت خیښتن (خاوند) دی، چه هر چیری هر شی مناسب وګنی، هغه کوی. «بی بی حواء» ئی بی موره، او مسیح علیه السلام ئی بی پلاره، او آدم علیه السلام ئی بی له موره او پلاره پیدا کړل د الله تعالیٰ په حکمتونو باندی څوک احاطه کولی شی؟.

---

هُوَ الَّذِي أَنزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُّحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ

---

الله هغه «ذات» دی چه نازل کړی «لیږلی» دی پر تا باندی کتاب «قرآن» چه ځینی له ده نه آیات محکمات دی «چه معانی ئی ښکاره دی» دا

«محکم آیات» اصل د کتاب دی «چه د شرعیه ؤ احکامو مبنی دی» او نور «ځینی آیات» متشهابهات دی «چه معنی ئی معلومه او معینه نه دی»، نو هر څه هغه کسان چه په زړونو د دوی کښی کوږوالی دی پس پیروی کوی دوی د هغو «کلماتو» چه متشابه وی له دی «قرآنه» له پاره د طلب د فتنی «او گمراهی» او دپاره د طلب د معنی د هغو.

**تفسیر:** «یعنی هر څه هغه کسان چه په زړونو د دوی کښی له حقه باطل ته میلان وی. لکه زائغین او اهل البدعت پس دوی متابعت کوی د قرآن د هغو ځایونو چه متشابه وی. یعنی چه په لفظ کښی ئی ډیر احتمالات جاری کیږی ـ او معنی ئی مشکله وی. زائغ د فتنی د طلب یعنی د عوامو د لغزولو او ښویولو دپاره د (۲۹) مقطعاتو، د یدالله، وجه الله، استوی، ظلل من الغمام او نورو متشابهاتو په نسبت وائی (معاذالله) چه ده پخپله خپل ذات ته جسم او مکان ثبت کړی دی «تعالیٰ عن ذلک علواکبیرا» او پخپله خوښه د دغو متشابهاتو د معنی د اړولو د طلب دپاره زیار (کوشش) کوی، او د خپل نفس په غوښتنی بی د شارع له اذنه په کښی تأویلات کوی.

وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ

حال دا چه نه پوهیږی په «حقیقی معنی او» مطلب د هغه مگر الله «چه دغه متشابهات هم لکه نور تول شیان ورمعلوم دی»

**تفسیر:** «یعنی د دی متشابهاتو هغه معنی چه حمل ئی پر هغی معنی واجب دی بل هیڅا ته نه ده معلومه، مگر یواځی الله تعالیٰ جل جلاله ته ښکاره او معلومه دی ځکه چه د هغه لفظ مراد چه ظاهر الدلالت نه وی هغه بی له متکلمه بل هیڅا ته نه وی معلوم.»

وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ كُلٌّ مِّنْ عِندِ رَبِّنَا
وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ ۝

او هغه کسان چه پاخه دی په علم کښی وائی دوی چه ایمان راوړی دی «باور او یقین لرو» مونږ په دی «متشابه چه په معنی ئی نه پوهیږو، په مثل د ایمان زمونږ په محکم باندی چه دواړه حق دی» دا تول «محکم او متشابه» له طرفه د رب زمونږ دی. او پند نه اخلی «په دی» مگر «خو پند اخلی» خاوندان د عقلونو «خالصو».

**تفسیر:** هر کله چه د نجران نصرانیان له ګردو (تولو) دلایلو څخنی عاجز شول نو د معارضی په ډول (طریقه) ئی وویل «آخر تاسی خو مسیح «کلمة الله» او «روح الله» ګڼئ - نو زموږ د مدعی د اثبات له پاره هم دومره الفاظ کافی دی» دلته د هغی تحقیقی ځواب د یو عام اصول او ضابطی په صورت ورکړی شوی دی، چه د هغه له پوهیدلو څخنی وروسته د زرګونو منازعاتو او مناقشاتو خاتمه کیدی شی. داسی وپوهیږئ چه نه یواځی په عظیم الشان قرآن کښی بلکه په تولو آسمانی کتابونو کښی دوه ډوله (قسمه) آیتونه شته (۱) هغه آیتونه دی چه مراد ئی ښکاره او تاکلی (مقرر) وی، یعنی د عبارت، لغت، ترکیب او نورو په لحاظ د هغه په الفاظو کښی څه اجمال او ابهام نه وی او نه ئی عبارت د څو معناګانو احتمال لری او نه ئی هغه مدلول چه ور څخه پوهیدلی شوی دی له عامو مسلمو قواعدو څخنی چپ وی، نو داسی آیتونو ته «محکمات» وائی، او په حقیقت کښی د کتاب د ګردو (تولو) تعلیماتو او احکامو بیخ او د اصولو اصل، هم دا «محکمات» آیتونه دی. (۲) د «متشابهاتو» آیتونه دی چه د هغو مراد ښکاره نه دی، او د هغو چه د متشابهاتو آیتونه دی د محکماتو آیتونو ته راجع کړل شی! او ودی کتل شی هغه معناګانی چه له محکماتو څخنی د ده په مخالفی وی د هغو دی بیخی نفی وکړه شی او د متکلم مقصد دی همغه شی واخیست شی چه د محکماتو له آیتونو څخنی مخالف نه وی او که سره له اجتهاده او ډیر کوښښ د متکلم مراد په پوره ډول (طریقه) سره متعین نه کړ شی نو د هر شی د پوهیدلو دعوی دی پریښوده شی! او له حده څخنی دی وړاندی تیری ونه کړ شی!، ځکه چه د علم د لړوالی او د استعداد د قصور لامله (له وجی) په ډیرو حقایقو باندی زموږ فکر نشی رسیدی او زموږ عقل د هغه له پوهیدلو څخنی قاصر دی، او دا دی هم په همغه فهرست کښی شامل کړ شی! خبردار چه داسی تأویلات او وړاندی وروستوالی دی ونه کړل شی! چه د مذهب د مسلمو اصولو او محکمو آیتونو څخنی مخالف وی.

د قرآن چه څوک له ځانه کړی تأویل ▪ چه د شرعی پکښی نه وی هیڅ دلیل
په مرض د ګمراهی سره علیل دی ▪ په عقبٰی به ئی رب سپک کړی ډیر ذلیل

مثلاً قرآن حکیم د مسیح علیه السلام په نسبت تصریح فرمایلی ده ﴿ إِنْ هُوَ إِلَّا عَبْدٌ أَنْعَمْنَا عَلَيْهِ ﴾ یا ﴿ إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ عِندَ اللَّهِ كَمَثَلِ آدَمَ خَلَقَهُ مِن تُرَابٍ ﴾ الآیة - یا ﴿ ذَٰلِكَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ قَوْلَ الْحَقِّ الَّذِي فِيهِ يَمْتَرُونَ ﴾ یا ﴿ مَا كَانَ لِلَّهِ أَن يَتَّخِذَ مِن وَلَدٍ سُبْحَانَهُ ﴾
او ځای په ځای ئی د هغه د الوهیت او ابنیت تردید کړی دی. اوس که یو سړی له دی ګردو (تولو) محکماتو آیاتونو څخنی سترګی پتی کړی، او په ﴿ وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلَىٰ مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِّنْهُ ﴾ او نورو متشابهاتو پسی منډی وهی، او د دغو معنی چه له محکماتو سره سمه وی پریږدی، او هسی یوه سطحی معنی غوره کوی، چه د کتاب الله له عمومی تصریحاتو او متواترو

بیاناتو ځنې منافي وي، نو دا كه كاږه تلل او سر زوري نه ده، نو څه ده؟ ځینې سخت زړي خو غواړي چه دا راز مغالطې واچوي او خلق د ګمراهي په كنده كښې نسكور كړي. او ځینې متزلزل او سست عقیده كسان له داسې متشابهاتو ځنې له خپلې رائې او غوښتنې سره سم تأويلات كوي، او غواړي چه په ډير كوښښ او سعي سره څه نا څه مطلب ترې را واخلي. حال دا چه د هغوی صحیح مطلب خو یوازې الله تعالیٰ ته معلوم دی، او همغه پخپل فضل او كرم سره هر چا ته چه هر څومره اراده وكړي همغومره ورښئي. هغه كسان چه مضبوط علم لري دوی محكمات او متشابهات دواړه حق ګڼي، او یقین لري چه دا دواړه له یوې چینې راوتلي دي، او په دوی كښې د تناقض او تهافت (منافات) هیڅ امكان نشته نو دا مضبوط عالمان هغه متشابهات محكماتو ته راجع كوي، او د هغو له مخې په مطلب ئې ځان پوهوي او هغه برخه چه د دوی د پوهې له دائرې ځنې وتلي وي، د هغې معنی او تأويل الله تعالیٰ ته پريږدي او وائي چه د دې په معنی باندې پاک الله ښه پوهيږي، زمونږ كار هم دا دی چه ایمان پرې راوړو.

كوم اجمال چه په كلام كښې عارضيږي
خپل قائل پرې له هر چا نه ښه پوهيږي

**فائده:** د دې بنده په نزد د دې آيت مضمون د ۱۷ جزء د «حج» د سورت د «۲۵ آيت ۷ ركوع» ﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٖ وَلَا نَبِيٍّ إِلَّآ إِذَا تَمَنَّىٰٓ﴾ الآية - له مضمون سره زيات مشابه دی چه بيا ئې په همغه موقع كښې ان شاءالله تعالیٰ بيان وكړ شي.

---

رَبَّنَا لَا تُزِغۡ قُلُوبَنَا بَعۡدَ إِذۡ هَدَيۡتَنَا وَهَبۡ لَنَا مِن لَّدُنكَ رَحۡمَةًۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡوَهَّابُ ⑧

---

«وائي دغه راسخون» اې ربه زمونږه! مه كږوه! زړونه زمونږ وروسته له دې نه چه په سمه صافه لاره دې برابر كړي يو او وبښه «عنایت كړه» مونږ ته له نزده خپله رحمت بیشكه ته هم دا ته ډير ښونكی ئې «د نعمت او رحمت».

---

**تفسير:** یعنې «راسخين في العلم» په خپل ایماني قوت او علمي كمالاتو باندې نه مغرور او نه داده كيږي، بلكه تل له حق سبحانه وتعالیٰ ځنې د لا زيات استقامت او د لا زيات فضل او عنايت غوښتونكي دي چه ګټلې پنګه (سرمايه) ئې له لاسه ضايع نشي. او الله دې نه كړي چه د زړونو له سميدلو ځنې وروسته بيا دوی كاږه شي. په حديث شريف كښې راغلي دي چه نبي كريم

صلی الله علیه وسلم خپل امت ته د تعلیم په توګه (طریقه) زیاتره داسی دعاوی کولی «**یا مقلب القلوب! ثبت قلبی علیٰ دینک**» ای اړونکیه د زړونو! ثابت وساته زړه زما پر دین خپل!.

رَبَّنَآ اِنَّكَ جَامِعُ النَّاسِ لِيَوۡمٍ لَّا رَيۡبَ فِيۡهِ‌ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُخۡلِفُ الۡمِيۡعَادَ ﴿۹﴾

ای ربه زمونږه! بیشکه ته یو ځای کوونکی د «تولو» مخلوقاتو ئی «په بعث سره په محشر کښی» دپاره د «حساب د هغی» ورځی چه نشته هیڅ شک شبهه په «راتلو د» هغی کښی، بیشکه چه الله نه کوی مخالفت له وعدی «خپلی» نه.

**تفسیر:** هغه ورځ ضرور راتلونکی ده، او هر یو له هغو مجرمینو (زائغینو، کږو تلونکو) چه په حقانی مسائلو کښی ئی ناحقی جګړی کولی، له ښکاره فیصلی ځنی به وروسته پخپلو سزاګانو باندی ورسیږی، او هلته به هر یو د خپل بغض - عناد - سرکښی - ربړونه ګالی (تکلیفونه مومی). له هم دی ویری مونږ د هغو له لاری ځنی بیزاره او ستا د رحمت او استقامت غوښتونکی یو. د دغو زائغینو په خلاف زمونږ لاره غوره کول، په کومی بدنیتی - او نفسانیت باندی بنا نه دی او له دی مخالفت څخه زمونږ مقصد یوازی اخروی فلاح ده.

اِنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا لَنۡ تُغۡنِىَ عَنۡهُمۡ اَمۡوَالُهُمۡ وَلَاۤ اَوۡلَادُهُمۡ مِّنَ اللّٰهِ شَيۡـئًا‌ ؕ وَاُولٰٓـئِكَ هُمۡ وَقُوۡدُ النَّارِۙ ﴿۱۰﴾

بیشکه هغه کسان چه کافران شوی دی له سره به دفعه نه کړی له دوی ځنی مالونه د دوی او نه اولاد د دوی له «عذابه د» الله نه هیڅ شی «نه لږ، نه دیر، نه په دنیا نه په عقبیٰ کښی» او دا کسان هم دوی دی خس د اور «د دوزخ»

**تفسیر:** د قیامت له ذکر سره ئی د کافرانو انجام هم راوښود، چه هیڅ شی دوی په دنیا او آخرت کښی د الله تعالیٰ له عذاب ځنی نشی ژغورلی (ساتلی). لکه چه د دی سورت په اوله کښی ولیکل شو. په دی آیتونو کښی اصلی خطاب د نجران جرګی ته دی، چه ښائی هغی ته د عیسایانو د مذهب او د عیسایانو د قوم لوی نماینده ووایه شی. زمونږ (رازی) امام فخرالدین

رحمة الله علیه «د محمد بن اسحٰق رحمة الله علیه» له سیرته نقل کوی چه د نجران دا جرگه د مدینی منوری په قصد رهی (روان) شوه، نو د دوی لوی پادری ابو حارثه بن علقمه پر قچر باندی سپور (سور) ؤ، د ده قچر بدری وکړه. د ده د (ورور کرز بن علقمه) له خولی ځنی زمونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په نسبت داسی یوه ښیرا ووتله «تعس الابعد» هلاک دی وی دا لری د عزته! له «بعد» ځنی مراد محمد صلی الله علیه وسلم ؤ العیاذ بالله. (ابو حارثه) وویل «تعس امک مره دی شی ستا مور! چه تا غوندی ځوی ئی ځیږولی دی» (کرز) حیران پاتی شو. او د ورور د دی ښیرا سبب ئی وپوښته. ابو حارثه وویل خدایږو مونږ ښه پوهیږو چه دا محمد صلی الله علیه وسلم همغه نبی دی چه د هغه زیری زمونږ په کتابونو کښی راکړی شوی دی (کرز) وویل نو بیا ئی ولی نه منئ؟ ابو حارثه وویل «**لان هؤلاء الملوک اعطونا اموالا کثیرة واکرمونا فلو آمنا بمحمد لاخذوا منا کل هذه الاشیاء** که مونږ پر محمد صلی الله علیه وسلم باندی ایمان راوړو، نو دا باچاهان چه دغه زیات مالونه او عزتونه راکړی دی نو دا گرد (تول) شیان به بیرته راخخه واخلی.» (کرز) هم دا خبری پخپل زړه کښی وساتلی، او په پای (آخر) کښی هم دا کلمه د هغه د ایمان سبب شو رضی الله عنه وارضاه زما په نزد په دی آیاتونو کښی د ابو حارثه د همغو کلماتو ځواب دی، گواکی په عقلیه ؤ او نقلیه ؤ دلائلو سره د هغه د فاسدی عقیدی تردید او تنبیه ئی وکړه چه د حق له ښکاره کیدلو ځنی وروسته هغه خلق چه یواځی د دنیوی متاع اموال، اولاد وغیره له امله (وجی) ایمان نه راوړی، دوی دی ښه وپوهیږی چه مال، دولت، شته، ملگری او نور نه په دنیا کښی دوی د الله جل جلاله له عذابه ژغورلی (ساتلی) شی، او نه په آخرت کښی دوی ته له لوی عذاب ځنی نجات ورکولی شی. لکه چه د همغه تازه مثال اوس د بدر په غزا کښی مسلمانانو او مشرکانو دواړو ولید. د دنیا پسرلی او ژوند د څو ورځو له پاره دی، د مستقبل بری او کامیابی هغو لره ده، چه له الله جل جلاله ویریږی. او تقویٰ غوره کوی. دا مضمون اوږد دی، او د عمومی الفاظو په اعتبار یهودان او مشرکان او نور کافران هم په دغه خطاب کښی شامل دی اگر که اصلاً د نجران له نصرانیانو سره مخاطبه ده. والله اعلم.

---

كَدَأْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ۚ فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ؕ وَاللّٰهُ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿١١﴾

---

«حال د دوی داسی دی» لکه حال «عادت» د تابعانو د فرعون او «لکه حال عادت» د هغو کسانو چه پخوا له دوی ځنی وو، «لکه عادیان ثمودیان» چه نسبت د دروغو به ئی کاوه آیتونو زمونږ ته پس ونیول دوی لره الله «په عذاب مهلک سره» په سبب د گناهونو د دوی، او الله سخت دی عذاب «د ده یعنی پر کافرانو ئی عذاب سخت او عقاب ئی تل دی.»

**تفسير:** يعنى د هيڅ پلمى (منصوبى) او بهانى نشى چليدى، او لکه چه هغوى نيولى شوى دى، تاسى هم د الله تعالىٰ له نيولو څخنى ځان نشى ژغورلى (ساتلى) او نيولى کيږئ

---

قُلْ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَتُغْلَبُوْنَ وَتُحْشَرُوْنَ اِلٰى جَهَنَّمَ ۭ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۱۲﴾

---

ووايه «اى محمده!» هغو کسانو ته چه کافران شوى دى ژر به مغلوب کړى شئ تاسى «په وژلو يا شړلو سره په دنيا کښى» او جمع به کړى شئ تاسى «شړلى به شئ په عقبٰى کښى» طرف د دوزخ ته، او بد ځاى د هستوګنى دى «دغه دوزخ».

---

**تفسير:** يعنى هغه وخت راتلونکى دى. چه ژر به تاسى ګرد (ټول) يهودان ـ نصرانيان او مشرکان د الله تعالىٰ د لښکرو په مخ کښى مغلوب شئ، او خپله وسله به ور واچوئ. داخو د دنيا سپکتيا ده. د آخرت هغه خورا (ډير) سور ځاى چه تاسى ته تيار شوى دى خو بيل دى، په ځينو روايتونو کښى دى چه د بدر له برى څخه وروسته رسول اکرم صلى الله عليه وسلم يهودانو ته وفرمايل «تاسى هم حق دين ومنئ که نه ستاسى حال به هم همغسى شى لکه چه د قريشو شو!.» دوى وويل «اى محمده!» تاسى په دى باندى مه تيروځئ چه د قريشو په څو بى تجربو سړيو باندى مو برى موندلى دى. که ستاسى مقابله له مونږ سره وشى نو هلته به وپوهيږئ چه مونږ څرنګه جنګياليان او برياليان (کامياب) يو؟، او جنګ څه شى ته وايه شى؟ نو په دى مناسبت دا آيتونه نازل شول. ځينى وائى چه د بدر د برى د ليدلو په اثر ځينى يهودان د تصديق لورى ته متمايل شول، خو ځينو نورو دوى ته وويل ګورئ تلوار مه کوئ! او صبر وکړئ! چه وروسته له دى نه څه پيښيږى؟ په دوهم کال کښى د احد د عارضى ماتى له ليدلو څخنى د دوى زړونه لاپسى سخت شول، او حوصله ئى زياته شوه، تر دى چه پخپل ترون باندى هم ونه دريدل، او د مسلمانانو د جنګ دپاره ئى تيارى وکړ کعب بن اشرف له شپيتو تنو سپرو (سورو) سره مکى معظمى ته لاړ، او د ابو سفيان او د قريشو د نورو غټانو سره ملګرى شول، او وئى ويل مونږ له تاسى سره مله او متحد يو، او ښائى چه ګرد (ټول) سره يو محاذ قايم کړو، او له محمد صلى الله عليه وسلم سره وجنګيږو! نو په دى باره کښى دا آيت نازل شو. والله اعلم. په هر حال له لږو ورځو څخه وروسته الله تعالىٰ دا راوښوله، چه په جزيرة العرب کښى به د مشرکانو نوم هم پاتى نشى. بنى قريظه عهد ماتوونکى يهودان پخپله سزا ورسيدل. بنى نضير له مدينى منورى څخنى وشړل شول. د نجران عيسايان داسى خوار او سپک شول، چه کلنى «جزيه» ورکول ئى ومنل، او نژدى تر زرو کلونو پورى د دنيا ډيرو مغرورو او خورا (ډير) متکبرو قومونو د مسلمانانو په تهذيب، تربيئى، تعليم، لوئى، ښيګنى (فائدى) او ترقى اعتراف کاوه. فالحمد لله علىٰ ذالک.

قَدْ كَانَ لَكُمْ اٰيَةٌ فِىْ فِئَتَيْنِ الْتَقَتَا ؕ فِئَةٌ تُقَاتِلُ فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَاُخْرٰى
كَافِرَةٌ يَّرَوْنَهُمْ مِّثْلَيْهِمْ رَاْىَ الْعَيْنِ ؕ وَاللّٰهُ يُؤَيِّدُ بِنَصْرِهٖ
مَنْ يَّشَآءُ ؕ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّاُولِى الْاَبْصَارِ ﴿۱۳﴾

په تحقیق سره دی تاسی ته لوی عبرت «نمونه ای ناظرینو!» په هغو دوو فرقو کښی چه سره مخامخ شولی (په «بدر» کښی له پاره د جنګ) یوه فرقه وه چه جنګ ئی کاوه په لاره د الله کښی او بله فرقه وه چه کافره وه. لیدل به دوی هغوی لره دوه چنده د هغوی په لیدلو د سترګو سره، او الله قوت ورکوی په نصرت مرسته (مدد) خپله سره هر چا ته چه اراده وکړی (د نصرت)، بیشکه په دی «زیات او کم لیدلو» کښی خامخا عبرت «پند» دی له پاره د خاوندانو د بصیرت.

**تفسیر:** د بدر په غزا کښی د کافرانو شمیر نژدی زر ته ؤ. چه له دوی سره اوه سوه اوښان، سل آسونه هم وو په بل لوری کښی مجاهدین له دری سوو تنو څخنی لږ څه زیات وو، چه له هغوی سره اویا اوښان، دوه آسونه، شپږ زری، اته توری یا چړی وی او یوه ننداره (تماشه) دا وه، چه هر یوه لښکر ته به بل مخامخ لښکر دوچنده په نظر ورته، چه د هغه نتیجه داسی شوه، چه د کافرانو په زړونو کښی د مسلمانانو د دی ډیر والی له تصوره ویره ور ولویده او مسلمانانو ته د کافرانو له دی دوه چنده شمیر څخنی په پاک الله باندی لا دادینه (تسلی) او اعتماد پیدا شو، او د ده په لوری متوجه، او په پوره توکل، صبر او استقلال سره ئی د الله تعالیٰ په دی وعدی باندی چه ﴿فَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ مِّائَةٌ صَابِرَةٌ يَّغْلِبُوْا مِائَتَيْنِ﴾ دی اعتقاد او اعتماد ؤ، او د بری او نصرت هیلمن (امید کوونکی) ؤ، که پوره شمیر دوی ته وربنکاره کیدی چه دری چنده ؤ، نو ممکن ؤ چه ویره به دوی ته پیښیده، او دغو دواړو ډلو ته دوه چنده ښکاریدل، په څینو احوالو کښی ؤ که نه په څینو احوالو کښی هر یوه لښکر ته بل مخامخ لښکر لږ په نظر ورته لکه چه د «الانفال» په سورت کښی به راشی. په هر حال د هغسی یوی لږی او بی سرو سامان ډلی، د داسی یوی مضبوطی او پیاوړی (محکمی) ډلی په مقابل کښی، د هغی پخوانی وینا سره سم چه په مکی معظمی کښی شوی وه دا رنګ بریالی (کامیاب) کیدل د لیدلو خاوندانو ته یوه لویه عبرتناکه واقعه، او ښه نمونه ده.

زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوٰتِ مِنَ النِّسَآءِ

ښائسته کړی شوی دی خلقو ته محبت (مینه) د مرغوبو خوندورو شیانو چه ښځی دی.

**تفسیر:** یعنی کله چه سړی له هغو سره علاقمن (تعلق لرونکی)، او له الله تعالیٰ څخه غافل شی. نو بناء پر دی په حدیث کښی راغلی دی «**ماترکت بعدی فتنة اضر علی الرجال من النساء**» ما نه ده پریښی وروسته له خپله ځانه یوه فتنه چه زیاته ضرر رسوونکی وی نارینه ؤ ته له ښځو څخه» هو! که له ښځو څخنی مقصود عفت او د اولادو کثرت وی، نو مذموم نه ـ بلکه مطلوب او مندوب دی. لکه چه رسول الله مبارک فرمایلی دی «د دنیا خورا (ډیر) ښه متاع هغه ښه ښځه ده چه که هغی ته وګوری خوښ شی ـ که حکم ورته ورکړی حکم دی ومنی ـ که ور څخنی چیری غائب شی ـ نو مال دی او خپل عصمت او عفت په ښه شان سره ساتی.» هم داسی هومره شیان چه وروسته له دی نه د دنیا د متاع په سلسله کښی یاد شوی دی، د هغو ګردو (تولو) ښه والی او بدوالی د نیت او عمل په تفاوت سره متفاوت کیږی. خو څرنګه چه په دنیا کښی هسی افراد ډیر دی، چه د عیش او عشرت په سازونو او سامانونو کښی ډوب پراته دی، او الله تعالیٰ او خپل انجام هیروی، نو ځکه د «زین للناس» کلام په ظاهر کښی عام راوړل شوی دی.

وَالْبَنِيْنَ وَالْقَنَاطِيْرِ الْمُقَنْطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ

او ځامن دی او ډیر مالونه چه راتول کړی شوی دی له سرو زرو نه او سپینو زرو نه او آسونو نه چه نښان داره «یا ښائسته» کړی شوی دی.

**تفسیر:** یعنی هغه آسونه چه لمبر یا نښان پری ایښود شوی وی، یا هغه ښایسته او ښکلی آسونه چه په لاسونو، پښو او تندی باندی ئی خدائی نښی وی. یا هغه آسونه چه په څر ځای (چراګاه) ورشو کښی د څر دپاره خوشی پریښودل شوی وی.

وَالْأَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ۗ ذٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَاللّٰهُ عِنْدَهٗ حُسْنُ الْمَاٰبِ ﴿۱۴﴾

او نور چارپایان دی «لکه اوښ، غوئی، پسه» او کښت «یا مزرعه» دی، دغه «٦ واړه شهوتونه» فائده اخیستل د ژوندون د دنیا دی او «خاص» الله

شته په نزد د ده ښه ځای د ورتللو «چه جنت دی»

**تفسیر:** یعنی ابدی فلاح له دی شیانو څخنی په لاس نه راځی یوازی د دنیا د څو ورځو موقتی گټه تری اخیسته کیږی، که ډک له بری او کامیابی مستقل او ښه ځای غواړئ، نو هغه د الله تعالیٰ سره مونده کیږی، نو تل د الله جل جلاله د خوښی او د قرب د حصول په فکر کښی ووسئ!. په وروستنی آیت کښی دا راښئی چه هغه ښه ځای کوم دی او هغه کومو خلقو ته وررسیږی؟.

قُلْ أَؤُنَبِّئُكُم بِخَيْرٍ مِّن ذَٰلِكُمْ ۚ لِلَّذِينَ اتَّقَوْا عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَأَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ

ووایه «ای محمده! دوی ته» آیا خبر درکړم تاسی ته په بهتر «څیز» له دغو «٦ واړو دنیوی خوندونو» نه؟، «شته» له پاره د هغو کسانو چه متقیان دی «د الله احکام تعمیلوی» په نزد د رب د دوی جنتونه چه بهیږی لاندی له «مانیو او ونو د» هغوی ویالی چه تل به وی «دوی» په دی «جنتونو» کښی او ښځی به وی ښی پاکی.

**تفسیر:** یعنی له هر راز صوری او معنوی نجاستونو او گندگیو څخه به «چه دنیوی ښځی طبعاً یا اخلاقاً په هغو ککړی او ناولی کیږی» پاکی او صافی وی.

وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللَّهِ ۗ

او رضامندی (لویه به وی له کریمه ربه دوی ته) له جانبه د الله،

**تفسیر:** آیا له دغه څخنی به بل کوم لوی نعمت او کوم ښه احسان او انعام وی؟ نه! په حقیقت کښی جنت د دی له پاره مطلوب او مرغوب دی چه د رضاء محل، او د لقاء ځای دی.

وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِالْعِبَادِ ﴿١٥﴾

او الله ښه لیدونکی دی (عالم په پټو او ښکاره احوالو) د بندگانو (نو هر چا

ته به د خپل عمل جزا ورکړی)

**تفسیر:** د بندګانو ګرد (ټول) اعمال او احوال هغه ته حاضر دی. هر هغه څوک چه د هری جزا او سزا وړ (لائق) او مستحق وی همغه به بی له زیاتوالی او نقصان څخه ورکوله کیږی. د دنیا د پسرلی او تازګی مینان او د هغی له فانی خوندونو څنی ځان ژغورونکی (ساتونکی) ټول به خپلو ځایونو ته لیږل کیږی، یا به ئی دا مطلب وی چه په پرهیزګارانو باندی د الله جل جلاله لطف او کرم دی چه د دنیا له چتی (بیکاره) او فضولو چارو او کودو څنی ئی محفوظ ساتی، لکه چه په حدیث کښی راغلی دی چه رسول الله مبارک فرمائی «کله چه الله تعالیٰ ته کوم بنده محبوب وی، نو دی له دنیا څنی داسی لری ساتی او تری پرهیزوی ئی لکه چه تاسی خپل کوم ناروغه له مضرو اوبو او ناوړو (ګنده) خوړو څنی پرهیزوئ.»

اَلَّذِیْنَ یَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اِنَّنَآ اٰمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿۱۶﴾

هغه (متقیان) چه وائی «ای ربه زمونږه! بیشکه مونږ ایمان راوړی دی (په ټولو مؤمن به شیانو) نو مغفرت وکړه مونږ ته د ګناهونو زمونږ او وساته مونږ له عذابه د اور (د دوزخ).»

**تفسیر:** معلومه شوه چه د ګناه د مغفرت له پاره ایمان راوړل شرط دی.

اَلصّٰبِرِیْنَ وَالصّٰدِقِیْنَ وَالْقٰنِتِیْنَ
وَالْمُنْفِقِیْنَ وَالْمُسْتَغْفِرِیْنَ بِالْاَسْحَارِ ﴿۱۷﴾

(هسی متقیان چه) صبر کوونکی دی (په طاعت او مصیبت او له معصیت څخه) او صادقان دی (رښتینی دی په ایمان) او په ځای راوړونکی دی د حکم (د الله) او خیرات کوونکی دی په رضا د (الله) او مغفرت غوښتونکی دی په آخر د شپو کښی.

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ په لاره کښی لوی لوی ربړونه (مصیبتونه) او تکلیفونه په ځان اخلی او د الله تعالیٰ د احکامو په منلو کښی ټینګ ولاړ وی، او له ګناه او معصیت څنی تل ځان ژغوری (ساتی). په ژبه، نیت، زړه او په معامله کښی بیخی رښتینی وی، په پوره تسلیم او انقیاد سره د الله تعالیٰ ګرد (ټول) احکام په ځایوی، او د الله تعالیٰ له خوا ورکړی شوی مال د

هغه په ښوونې سره لازمو ځايو کښې صرفوي، او د شپې په آخره شومه کښې (چه د طمأنيت او اجابت وخت دی، او په هغه وخت کښې له خوبه پاڅيدل کوم آسان کار نه دی) له خپل رب څخنې د خپلو ګناهونو او تقصيراتو مغفرت غواړي لکه چه د ۲٦ جزء د (الذاريات) د لومړی رکوع په ۱۷ آيت کښې راغلی دی. ﴿ كَانُوا قَلِيلًا مِّنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ وَبِالْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴾
يعنې د شپې زياته برخه په عبادت کښې تيروي، او د سهار په وخت کښې استغفار وائي چه ای الله! زمونږ هغه تقصيرات او نيمګړتياوی چه په عبادت کښې رانه شوی دی پخپل فضل او کرم سره ئې وبښه!. (ځينې وائي چه د دغو پنځو واړو متقيانو مشران په ترتيب سره محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم او خلفاء راشدين دی چه زمونږ رسول الله صلی الله عليه وسلم په «صبر» او صديق اکبر رضی الله تعالٰی عنه په «صدق»، او عمر فاروق رضی الله تعالٰی عنه په «قنوت»، او عثمان ذی النورين رضی الله تعالٰی عنه په «انفاق» او علی المرتضٰی رضی الله تعالٰی عنه په «استغفار» کښې، له اول الاخيارو او اولی الابرارو څخنې وو). رضوان الله تعالٰی عليهم اجمعين.

---

## شَهِدَ اللَّهُ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ

### شاهدی اداء کړی ده الله (د وحدانيت او د قدرت د آيتونو د دلائلو په اقامت خلقو ته) په دی شان چه نشته هيڅ مستحق د عبادت مګر هم دی دی

---

**تفسير:** په ابتداء کښې د نجران له نصرانيانو سره مخاطبه وه، او په ډير لطيف صورت سره ئې د مسيح عليه السلام د الوهيت د عقيدی ابطال او د خالص توحيد اعلان او د ايمان راوړلو ترغيب ئې وکړ، په منځ کښې ئې د هغو موانعو ذکر وفرمايه چه د حق له وضاحت سره انسان د ايمان له شرفه محروم او بی برخی کوی، چه مال، اولاد او د عيش او عشرت نور ساز او سامان دی په دی آيتونو کښې د مؤمنانو د صفاتو له بيانولو څخه وروسته بيا د توحيد او نورو اصلی مضمونو په لوری رجوع وشوه. يعنی د خالص توحيد په منلو کښې څه تردد او انديښنه کيدی نه شي؟ ځکه چه په خپله الله تعالٰی په خپلو تولو کتابو کښې پرله پسی د هم دی مضمون په حقانيت باندی شاهدی لولی، او د هغه د فعلی کتاب (د کائناتو پاني) هر يوه پانه، بلکه هر يوه نقطه شاهدی ورکوی چه له رب العالمين جل علٰی شانه څخه پرته (علاوه) بل هيڅوک د عبادت وړ (لائق) نه شی کيدی.
«**وفی کل شیٔ له آية ـ تدل علٰی انه واحد**» «په هر شی کښې دی دليل ـ چه الله دی بی مثيل» ﴿ سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴾ (۲٤ جزء د حمٓ السجده ٦ رکوع ۵۳ آيت).

# وَالْمَلٰٓئِكَةُ

او (شاهدی اداء کړی ده) پرښتو (د وحدانیت په اقرار سره)

**تفسیر:** ښکاره ده چه د پرښتو شاهدی د الله جل جلاله له شاهدی ځنی هیڅکله مخالفه کیدی نشی. پرښته خو د هغه مخلوق نوم دی چه د صدق او د حق له لاری ځنی غاړه نشی غړولی. لکه چه د پرښتو تولی تسبیح او ګرد (تول) تمجید په عمومی دول (طریقه) د باری تعالیٰ په توحید او تفرید باندی مشتمل دی.

# وَاُولُوا الْعِلْمِ

او (شاهدی اداء کړی ده) خاوندانو د علم (له انبیاؤ او مؤمنانو د وحدانیت په اعتقاد سره)

**تفسیر:** علم والا په هر زمانه کښی د توحید شهادت ورکوی. او نن ورځ په عمومی دول (طریقه) سره د توحید په خلاف یو لفظ ویل، له مطلق جهل سره مرادف ګڼل کیږی. مشرکان هم په خپلو زړونو کښی د توحید اصول منی. او علمی اصول هم د شرک د عقائدو مؤید نه دی. (له دی نه د علم فضیلت، او د پوهنی په لوری تشویق او رغبت ثبت شو. نو ښائی چه هر مؤمن د علم او معرفت په تحصیل کښی بیړه (تلوار) او کوښښ وکړی!.)

کوښښ وکوه په علم! هم عمل ورسره مل کړه!
ښی فائدی له علمه واخله، هر مشکل د ځان پری حل کړه!
د علومو په لاس تول شی، د مقصد د باغ ګلونه!
په مسلک د صالحانو، تګ د علم په مشعل کړه!

# قَآئِمًا بِالْقِسْطِ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿١٨﴾

په دی حال کښی چه ثابت دی (الله او حاکم دی په تدبیر د مصنوعاتو) په عدل سره، نشته هیڅ مستحق د عبادت مګر هم دی دی ښه غالب (قوی په انفاذ د احکامو) ښه حکمت والا (چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی).

**تفسیر:** د عدل او انصاف کولو دپاره دوه خبری ضروری دی (۱) دا چه منصف داسی زورور او

غالب وی چه هیڅوک د هغه له فیصلی نه سر ونشی غړولی (۲)حکیم وی چه په حکمت او پوهی سره د هر شی تدقیق او څیړنه (تحقیق) له هری خوا ځنی وکړلی شی او په پوره دقت او قوت سره وکړلی شی چه خپله فیصله صادره کړی، او هیڅ یو نامناسب او بی موقع حکم ونه کړی ـ څرنگه چه حق سبحانه و تعالیٰ عزیز او حکیم دی، نو ځکه د هغه په مطلق عدالت هیڅ یوه شبهه نشی واردیدی. غالباً په دی لفظ د «قائما بالقسط» سره د عیسایانو د کفاری مسئله هم تردیده شوه په رښتیا سره دا څه عدل او انصاف دی، چه د گردی (تولی) نړی جرمونه یوازی پر یوه سړی باندی بار کړل شی، او همغه یو مجرم چه سزا ومومی، نور به گرد (تول) مجرمان د تل لپاره پاک او بری گڼل شی، حال دا چه د عادل او حکیم الله تعالیٰ لوی دربار له هسی گستاخی او سپین سترگی ځنی خورا (ډیر) لوړ دی.

---

إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ ۗ

---

بیشکه دین (چه په ادیانو کښی غوره دی) په نزد د الله دین د اسلام (یعنی محمدی شریعت) دی،

---

**تفسیر:** د «اسلام» اصلی معنی ځان سپارل او غاړه کیښودل دی. د «اسلام» مذهب ته هم له هم دی امله (وجی) «اسلام» وایه شی، چه هر مسلمان بیخی خپل ځان الله تعالیٰ ته سپاری، او د ده گردو (تولو) احکامو ته غاړه ږدی، او په وحدانیت باندی اعتقاد او اقرار کوی. گواکی «اسلام» د انقیاد او تسلیم او د مسلمانی د احکامو د منلو بل نوم دی، هسی خو له شروع ځنی د آخرالزمان رسول الله صلی الله علیه وسلم تر زمانی پوری تولو پیغمبرانو علیهم السلام هم دا د «اسلام» مذهب راوړی، او پخپلو زمانو کښی ئی خپلو قومونو ته له وخت سره مناسب احکام وررسولی او د طاعت او عبادت او د حکم منلو او د (الله واحد احد صمد) د خالص پیژندلو او عبادت کولو په جانب ئی خلق بللی ـ خو په دی سلسله کښی زمونږ خاتم الانبیاء محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم گرد (تول) عالم ته داسی یو اکمل او ډیر جامع او عالم شموله (تول جهان ته شامل) او نه نسخ کیدونکی هدایت راوړی دی، چه دا مبارک دین نه یواځی گردو (تولو) سابقه ؤ او حقه ؤ شرائعو لره شامل دی، بلکه د نورو زیاتو ښیگڼو (فائدو) او خصوصیاتو لرونکی هم دی، چه دا لارښوونی پخپل دی خصوصی رنگ سره د «اسلام» په نامه موسومی او ملقبی شوی دی. په هر حال په دی آیت کښی د نجران د نصرانیانو په مخ کښی عموماً اعلان کړی شوی دی، چه دین او مذهب یواځی د همغه شی نوم کیدی شی، چه بنده په هغه سره د زړه له اخلاصه خپل ځان او مال پاک الله ته ور وسپاری. او په هر وخت کښی هر هغه حکم چه د هغه له جانبه ور ورسیږی، هغه بی له وړاندی او وروسته کولو، او څه ویلو ځنی ژر تر ژره ومنی او تعمیل ئی کړی ـ او تل د خپل تسلیم غاړه الله تعالیٰ ته کیږدی، نو هغه کسان چه الله جل جلاله ته ځانن

او لمسی تاکی (مقرروی) ـ او د مسیح او مریمی علیهما السلام د تصویرونو او د صلیب د شکل عبادت کوی، او د خنزیر (سوډر) غوښه خوری، انسان ته خدای وائی او خدای لکه انسان داسی ګڼی ـ او د انبیاؤ او اولیاؤ وژل هغوی ته آسان کار ښکاری ـ د حق دین د امحاء له پاره په ناحقو کوښښونو مشغول او لګیا وی ـ او د هغه رسول په تکذیب کښی عمداً او قصداً مشغول وی چه د موسیٰ او عیسیٰ علیهما السلام د بشارتونو (زیری) سره سم مبعوث شوی او له دغو دواړو رسولانو څخه د زیاتو آثارو او لویو علائمو او لوړو آیاتونو او ښکاره ؤ معجزو خاوند دی، او د هغه په راوړی کلام او احکامو باندی قصداً او عمداً توکی او مسخری کوی، یا هغه ناپوهان چه تیږو (ګټو) ، ونو، ستوریو، لمر سپوږمی او نورو ته سجدی ږدی. او د حلالو او حرامو معیار یوازی خپلی نفسانی غوښتنی ګڼی، نو آیا له دغو ډلو څخنی یوه ډله هم د دی وینا او ادعا وړ (قابل) او لایقه ده، چه خپل ځان مسلم، او د ابراهیمی ملت پیرو وبولی؟ العیاذ بالله. **وفی روایة محمد بن اسحٰق رحمة الله علیه فقال رسول الله صلی الله علیه وآله وصحبه وسلم اسلموا! فقالوا قد اسلمنا! فقال صلی الله علیه وسلم کذبتم! کیف یصح اسلامکم؟ وانتم تثبتون لله ولدا وتعبدون الصلیب وتأکلون الخنزیر. «تفسیر کبیر»**

---

وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتٰبَ إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ ۭ

---

او اختلاف نه دی کړی هغو کسانو چه ورکړی شوی دی دوی ته کتاب (چه یهودان او نصرانیان دی) مګر وروسته له هغه چه راغی دوی ته علم (په توحید او نبوت د محمد باندی) په سبب د ضد، حسد، کینی چه وه په منځ د دوی کښی،

---

**تفسیر:** یعنی «اسلام» یو واضح او روښانه دین دی هغه دلائل چه ثابتوی چه موسیٰ او عیسیٰ علیهما السلام پیغمبران دی او توریت او انجیل آسمانی کتابونه دی له هغو څخنی خورا ښه ـ ټینګ قوی او زورور دلائل د محمد صلی الله علیه وسلم په رسالت، او د قرآن العظیم په کلام الله توب باندی شته، بلکه په خپله همغه کتابونه د دوی په حقانیت باندی شاهدی ورکوی. خالص توحید یو صاف او ښکاره مضمون دی، چه د هغه په خلاف د زوی او د پلار مفکوره (نظریه) یوه داسی چټی (بیکاره) دعوی او بی معنی چیستان (معمه) دی چه هیڅ یو علمی اصول د هغه تائید نه کوی. اوس چه کتابیان له اسلام سره مخالف شوی دی، نو د دی روڼو حقائقو تکذیب ته ئی ملاوی تړلی دی، او د الله تعالیٰ له حکم منلو څخنی غاړه غړوی. نو د دی مخالفت سبب پرته (علاوه) له ضد، حسد، عناد او د مال او جاه له حرصه بل شی نشی کیدی ـ لکه چه ړومبی

د ﴿ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَن تُغْنِيَ عَنْهُمْ أَمْوَالُهُمْ ﴾ الآية - په فوائدو کښې د ابو حارثه بن علقمه د نجران د جرګې رئيس په وينا کښې ذکر شو چه هغه په خپله په دې اعتراف او اقرار کړې دې او دا د هغو خلقو پخوانې عادت ؤ، د يهودانو او نصرانيانو هغه اختلافونه چه د دوی په خپلو منځو کښې وو، يا هغه ډيرې فرقې چه په يوه مذهب کښې جوړيدې، او بيا په خونړيو جنګونو او جګړو باندې پاې (آخر) ته رسيدلې تاريخ د هغو سبب او منشأ عموماً، جهل، ناپوهې او غلط فهمې نه بولې، بلکه د دغو ګردو (ټولو) اختلافاتو او پيښو سبب، يوازې هم دا د مال او دولت مينه او محبت او د عزت او پت خوښول ګڼې.

---

# وَمَن يَكْفُرْ بِآيَاتِ اللَّهِ فَإِنَّ اللَّهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ ⑲

---

او هر څوک چه کافر کيږې (انکار کوی) په آيتونو د الله (او احکام او د قدرت او وحدانيت علامې ونه منې) پس بيشکه الله ډير ژر حساب والا دې (نو ئې ژر په سزا رسوی).

---

**تفسير:** په دنيا کښې هم. او په آخرت کښې خو خامخا پوره حساب او کتاب ورسره کوی. بيا به ئې هرومرو (خامخا) د عمل په قدر په سزا رسوی.

---

# فَإِنْ حَاجُّوكَ فَقُلْ أَسْلَمْتُ وَجْهِيَ لِلَّهِ وَمَنِ اتَّبَعَنِ ۗ

---

پس که بيا جګړه کوی دا (کافران) له تا سره (له دغو دلائلو وروسته هم) پس ووايه (ای محمده! دوی ته چه ما خالص تابع کړې دی مخ خپل) يعنی ځان خپل احکامو د) الله ته او هر هغه چه متابعت کوی زما (هغه هم خپل ځان الله ته سپارلی دی.)

---

**تفسير:** لکه چه په دوو ړومبنيو فوائدو کښې ذکر شول کتابيانو هسې دعوی او جګړې کولې چه مونږ هم مسلمانان يو. دلته دا ورښودل کيږی چه دغسې فرضی اسلام ستاسې په ښه نه درځې راشئ وګورئ اسلام دی ته وائی چه محمد صلی الله عليه وسلم او د هغه ځان جارووونکی (قربان کوونکی) ملګری ئې لری. اوس مو وليکل چه «اسلام» له تسليم او انقياد څخه عبارت دی يعنی بنده د زړه له کومی خپل ځان او مال الله جل جلاله ته وسپاری نو محمد صلی الله عليه وسلم او مهاجرينو، او انصارو او نورو مسلمانانو ته وګورئ چه هغوی په څه ډول (طريقه) له شرک بت پرستی، بداخلاقی، فسق، فجور، ظلم، او عدوان سره مقابلې کولې؟ او خپل ځان، مال، ښځې، اولاد، وطن، کور او کهول لنډه ئې دا چه خپل ټول مرغوب او محبوب شيان ئې د الله تعالیٰ په

لاره، او د ده په خوښی کښې جارول (قربانول)؟ او دوی په څه ډول (طريقه) سره خپل مخونه او سترګی هر وخت د الله تعالیٰ حکم رارسيدلو ته نيولی وی؟ چه کله به ئی حکم راورسيږی، چه مونږ ئی تعميل کړو. د ده په مقابل کښې تاسی خپلو احوالو ته هم لږ څير شئ چه تاسی په خپلو پټو مرکو کښې وايئ «محمد صلی الله عليه وسلم په رښتيا سره د پاک الله رسول دی، خو که مونږ د ده په رسالت اقرار وکړو او وئی منو، نو زمونږ دنيوی مال، شته او پت له لاسه وځی» خير! که سره د حق له وضاحته تاسی د اسلام په لوری نه راځئ، نو تاسی پوهيږئ او انجام مو، مونږ خو خپل ځانونه همغه يوه خدای جل جلاله ته ورسپارلی دی.

وَقُلْ لِّلَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ وَالْاُمِّيّٖنَ ءَاَسْلَمْتُمْ ؕ فَاِنْ اَسْلَمُوْا فَقَدِ اهْتَدَوْا ۚ وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلٰغُ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ ۟ ع ٢٠

او ووايه (ای محمده!) هغو کسانو ته چه ورکړی شوی دی دوی ته کتاب (يعنی يهودانو او نصرانيانو ته) او ناپوهانو (مشرکانو د عربو) ته آيا اسلام راوړئ تاسی؟، (يعنی اسلام راوړئ!) پس که اسلام راوړ دوی پس په تحقيق چی ومونده دوی سمه صافه لاره، او که وګرځيدل دوی (له اسلامه) پس بيشکه هم دا خبره ده چه پر تا تش تبليغ (د هدايت) دی، او الله ښه ليدونکی دی (عالم په پټو او ښکاره ؤ احوالو) د بندګانو

**تفسير:** يعنی فکر وکړئ! آيا تاسی لکه مونږ د الله تعالیٰ حکم منونکی بندګان يئ؟! يا وروسته له دی نه تاسی د الله جل جلاله تابع کيږئ؟! که داسی وی، نو وپوهيږئ چه په سمه لاره برابر شوی يئ! او زمونږ اسلامی ورونه يئ! که نه زمونږ کار خو پوهول، او د مضر، او مفيد، او د لاری لوړه او ژوره درښوول مقصود دی او دا ښوونه مو کړی ده، نور نو ګرد (تول) بندګان او د دوی ظاهری او باطنی اعمال د الله تعالیٰ تر نظر لاندی دی، او الله تعالیٰ به هر يو ته د هغو د عمل جزا او سزا پوره ورکوی.

**تنبيه:** د عربو مشرکانو ته ئی ځکه امی (ناپوه) وويل چه له دوی سره د سماوی کتابونو څه پوهه او تعليم نه ؤ.

اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَيَقْتُلُوْنَ النَّبِيّٖنَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۙ وَّيَقْتُلُوْنَ الَّذِيْنَ يَاْمُرُوْنَ بِالْقِسْطِ مِنَ النَّاسِ ۙ

فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿٢١﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۡ وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿٢٢﴾

بیشکه هغه کسان چه کافران کیږی پر آیاتونو (احکامو) د الله باندی او وژنی دوی انبیاء په ناحقه سره (پخپل اعتقاد کښی هم) او وژنی هغه کسان چه حکم کوی هغوی په عدل (او انصاف) سره له خلقو څخه پس زیری وکړه دوی ته په عذاب دردناک سره. دا همغه کسان دی چه باطل (ضائع) شوی دی (نیک) عملونه د دوی په دنیا کښی (له لعنت او مذلت څخه ئی پری نجات ونه موند) او (هم) په آخرت کښی (چه له دوزخه پری خلاص نشول) او نشته دوی ته هیڅ مددګاران (د عذاب په دفعه کښی).

**تفسیر:** په حدیث کښی راغلی دی چه «بنی اسرائیلو په یوه ورځ کښی (٤٣) انبیاء او (١٧٠) یا (١١٢) صالحان شهیدان کړل.» دلته دا خبری د نجران نصرانیانو او نورو کافرانو ته اورولی شی، چه د الله تعالیٰ له احکامو څخه انکار، او له انبیاؤ او انصاف خوښونکو ناصحانو سره مقابله، او په منتها درجه شقاوت او سخت زړه توب سره د هغوی په وینو سره خپل لاسونه سره کول، خورا (ډیر) لویه ګناه ده. داسی خلق د سخت درد رسوونکی عذاب مستحق، او په دواړو دارینو کښی ناکام او بی برخی کیږی، د دوی ګرد (تول) زیار (محنت) به نابوده او کوښښونه به ئی ضائع شی، او کله چه په دنیا او اخرت کښی دوی ته سزا ورکړه شی، نو هیڅوک به د دوی ژغورونکی (ساتونکی) او مرسته (مدد) کوونکی نه وی.

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ

آیا نه ګوری ته هغو کسانو ته چه ورکړی شوی وه دوی ته څه برخه له کتابه (توریت) نه

**تفسیر:** یعنی هغه لږه یا ډیره برخه د «توریت» او «انجیل» او نورو چه له لفظی او معنوی تحریفاتو او اړولو را اړولو څخه پاتی ده. یا د کتاب هغه لږه یا ډیره برخه چه د هغی پوهه او فهم د دوی په برخه شوی دی.

يُدْعَوْنَ إِلَىٰ كِتَٰبِ ٱللَّهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٌ مِّنْهُمْ وَهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٢٣﴾

حال دا چه وباله شي دوی طرف د کتاب د الله ته له پاره د دی چه حکم وکړی (دا کتاب) په منځ د دوی کښې بیا مخ ګرځوی یوه ډله له دوی نه حال دا چه دوی تل څنګ کوونکی دی (له قبوله د حقه په تغافل سره).

**تفسیر:** یعنی کله چه دوی را وبلل شي چه د هغه لوی قرآن په لوری راشئ! چه ستاسی د منل شویو کتابونو له زیری سره سم راغلی دی، او ستاسی د ګردو (تولو) جګړو فیصلی په ښه دول (طریقه) سره کوی، نو د هغوی د پوهانو یوه ډله ځان ناګاره (ناخبره) اچوی، او په تغافل سره تری مخ ګرځوی. حال دا چه د لوی قرآن په لوری بلنه په حقیقت کښې د «توریت» او «انجیل» په لوری بلنه دی. بلکه څه لری به نه وی، چه دلته له «کتاب الله» څنی هم دا «توریت» او «انجیل» مراد وی. یعنی درواخلئ! مونږ ستاسی د جګړو فیصلی هم دا ستاسی د کتابونو فیصلی ته پریږدو! مګر مشکل دا دی چه دوی د خپلو نفسانی غوښتنو سپکو اغراضو له امله (وجی) د خپلو کتابونو په هدایتونو باندی هم عمل نه کوی، او مخونه تری اړوی، نه ئی زیری اوری، نه ئی حکمونه منی. لکه چه د زانی په «رجم» کښې «د توریت» له منصوص حکم څنی ښکاره سترګی پټوی، او عمل پری نه کوی لکه چه وروسته له دی نه دا خبره د ٦ جزء د (المائدة) په ٤١ آیت ٥ رکوع کښې راځی.

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا۟ لَن تَمَسَّنَا ٱلنَّارُ إِلَّآ أَيَّامًا مَّعْدُودَٰتٍ ۖ وَغَرَّهُمْ فِى دِينِهِم مَّا كَانُوا۟ يَفْتَرُونَ ﴿٢٤﴾

دغه (ګرځیدل د دوی) په سبب د دی دی چه بیشکه دوی (یهودان) وائی له سره به ونه رسیږی مونږ ته اور (د دوزخ) مګر یو څو ورځی شمیرلی شوی (لږی) او غره کړی (تیر ایستلی) دی دوی په دین خپل کښې هغه شي چه وو دوی چه دروغ به ئی جوړول (په دین کښې).

**تفسیر:** یعنی د هغو د تمرد او طغیان او په ګناهونو باندی د زړورتیا علت دا دی چه د سزا څخه ویره نه لری. د دوی خورا (دیر) لوی دروغ چه له خپله ځانه ئی جوړ کړی دی دا دی «که مونږ دیره سخته ګناه هم وکړو، نو فقط له شمیرلو ورځو څنی زیاته موده به نه په عذابیږو»

لکه چه تفصیل ئی په اول جزء د البقرة ۸۰ آیة ۸ رکوع کښې تیر شو او هم دا راز ئی نور دروغ او چتي (بیکاره) خبری له خپلی ګیدی څخه را ایستلی دی. مثلاً چه مونږ د الله تعالیٰ منلی ځامن یو. یا د انبیاؤ له اولادی څخنی یو، او الله تعالیٰ له یعقوب علیه السلام سره وعده کړی ده چه د هغه اولادی ته به سزا نه ورکوی، او که سزا ئی هم ورکوله د قسم په ځای کولو لپاره به یو جزئی او موقتی عذاب وی. نصرانیانو خو د کفاری مسئله را ایستلی ده او د خپلی ګناه او سوال او ځواب خبری ئی بیخی خلاصی کړی دی. اللهم اعذنا من شرور انفسنا.

فَكَيْفَ إِذَا جَمَعْنَٰهُمْ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيهِ وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ

نو څه حال به وی هغه وخت کله چه یو ځای کړو مونږ دوی له پاره د (حساب د هغی) ورځی چه نشته هیڅ شک په (راتلو د) هغی کښې، او پوره به ورکړه شی هر نفس ته جزا د هغه عمل چه کړی ئی وی.

تفسیر: یعنی کله چه په محشر کښې د ګردو (ټولو) ړومبنیو او وروستنیو او د خپلو مشرانو په مخ کښې شرمنده او رسوا کیږی، هلته به وپوهیږی چه دوی په کومه تیاره کښې لویدلی وو او د هر عمل پوره بدل به ومومی. نه به ئی د کفاری مسئله په ښه ورشی، او نه نسبی تعلقات او نه به ئی له خپله ځانه جوړی کړی عقیدی پکار ورشی.

وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٢٥﴾

حال دا چه په دوی به ظلم ونه کړی شی (د حسناتو په کمولو یا د سیآتو په زیاتولو).

تفسیر: یعنی په وهمی جرائمو باندی به سزا نه ورکوله کیږی، بلکه پر هغو چارو باندی به دوی ته سزا ورکوله کیږی چه د هغه جرم ثابت وی، او دوی ئی په خپله هم منی. او هومره چه دوی استحقاق لری له هغی څخنی زیاته سزا هغوی ته نه ورکوله کیږی او نه به د چا خورا (ډیر) لږه نیکی ضایع کیدی شی.

قُلِ ٱللَّهُمَّ مَٰلِكَ ٱلْمُلْكِ تُؤْتِى ٱلْمُلْكَ مَن تَشَآءُ وَتَنزِعُ ٱلْمُلْكَ مِمَّن تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَن تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَن تَشَآءُ بِيَدِكَ ٱلْخَيْرُ

اِنَّكَ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ﴿۲۶﴾

ووایه (ای محمده!) یا الله (ای) مالکه د سلطنت (واکداره د باچاهی!) ورکوی ته سلطنت هر هغه چاته چه اراده وکړی (یا الله د ورکولو ئی) او بیرته اخلی سلطنت له هر هغه چا څنی چه اراده وکړی (د بیرته اخیستو ئی) او عزت ورکوی هر هغه چاته چه اراده وکړی (یا الله د عزت ئی) او خوار ذلیل کوی هر هغه څوک چه اراده وکړی (د ذلت ئی،) په لاس (د قدرت) ستا (هر راز) خیر (ښیګنی) دی بیشکه ته «یا الله» پر هر شی باندی (چه اراده وفرمائی) ښه قادر ئی. (هم په ورکولو هم په اخیستلو هم په عزت هم په ذلت).

**تفسیر:** لکه چه پخوا ولیکل شول د نجران د جرګی رئیس ابو حارثه بن علقمه ویلی وو «که مونږ پر محمد صلی الله علیه وسلم باندی ایمان راوړو، نو د روم د باچا له خوا هغه عزت او مال مرسته (مدد) چه را رسیږی، قطع به شی.» ښائی چه دلته به د دعا او مناجات په ډول (طریقه) د هغه ځواب ورکوی، چه د هغو باچاهانو په سلطنت او په دنیوی عزتونو باندی چه تاسی داده او غره شوی یئ، ښه وپوهیږئ چه د هر سلطنت او عزت اصلی مالک پاک الله دی، او هغه پاک ذات واک (اختیار) او قدرت لری، چه هر هغه چاته چه اراده وفرمائی ورکوی ئی، او له هر هغه چا څخه چه اراده وفرمائی، بیرته ئی اخلی. آیا دا امکان نه لری چه د (روم) او (پارس) سلطنتونه، شان، شوکت او عزتونه واخلی؟ او مسلمانانو ته ئی ورکړی؟ بلکه له دوی سره وعده شوی ده، چه خامخا ئی ورکوی. نن تاسی د مسلمانانو د موجوده پریشانی او بی سرو سامانی، او د دښمنانو د قوت او زورورۍ له مخی په دی خبره باندی هیڅ نشی پوهیدی، نو د هم دی له امله (وجی) به یهودانو او منافقانو په مسخرو او د توکو په ډول (طریقه) سره ویل «وګورئ! دا خواران چه د قریشو د حملی او یرغل له ویری د مدینی په چارچاپیر کښی خندقونه کینی، د (قیصر) او د (کسریٰ) د تاج او تخت د نیولو خوبونه وینی. ، مګر الله تعالیٰ د څو کلونو په منځ کښی دا ګردی (تولی) وعدی تولو ته وروښودی، چه د (روم) او (پارس) د خزانو هغه ګردی (تولی) کیلیګانی (کنجیانی) ئی چه د هغو وعده ئی له پاک رسول صلی الله علیه وسلم سره کړی وه، د حضرت عمر فاروق اعظم رضی الله عنه په زمانه کښی ئی څرنګه د مسلمانانو لاس ته وروستلی او په څه ډول (طریقه) سره د اسلامی مجاهدینو په منځ کښی وویشلی شوی؟ اصلی خبره خو دا ده چه دا مادی عزت او سلطنت څه شی نه دی، کله چه لوی قادر او حکیم الله د روحانی عزت او سلطنت آخری مقام (یعنی د نبوت او رسالت منصب) له بنی اسرائیلو څنی منتقل، او بنی اسمٰعیلو ته ئی ور وباښه، نو د روم او د عجم د ظاهری سلطنت انتقال عربی کوچیانو (خانه بدوشو) ته کومه ګرانه او لری خبره نه دی، ګواکی دا دعا یوه راز پیشګوئی وه

چه عنقریب د دنیا نخچه (نقشه) بدلیدونکی ده، هغه قوم چه له دنیا څخه لری او جلا (جدا) پروت ؤ، د دنیا د لویو سلطنتو او عزتو خاوند به شی، او هغه کسان چه باچاهی ئی کوله، دوی د خپلو بدو عملونو له امله (وجی) د خواری او ذلت په کندو کښی وغورځول شی.

**تنبیه:** ﴿ بِيَدِكَ الْخَيْرُ ﴾ بیشکه چه د پاک الله په قدرت کښی هر راز (قسم) خیر او ښیګڼه (فایده) شته او د «شر» پیدا کول هم په دی اعتبار سره «خیر» دی، چه د عالم د مجموعی په اعتبار به هغه کښی هم په زرهاؤ حکمتونه پټ او په صحیح حدیث کښی راغلی دی **«الخیر کله فی یدیک والشر لیس الیک»**

«ای ښیښتنه! نیکی خیر ګڼو له تانه   د بدی او شر ګمان نه کړو له تانه!»

---

## تُولِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَتُولِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ

ننه باسی (ته یا الله) شپه په ورځ کښی (چه تل په پسرلی کښی له شپو کموی او په ورځو کښی ئی زیاتوی) او ننه باسی (ته یا الله) ورځ په شپه کښی (چه تل په منی کښی له ورځو کموی او په شپو کښی ئی زیاتوی)

---

**تفسیر:** پس تل زیاتوی په هر یوه کښی هغومره چه کموی له هغی بلی نه، یعنی کله چه شپه لنده وی ورځ اوږده وی، او کله د دی عکس کوی مثلاً په یوه موسم کښی (د جدی اوله) شپه ۱٤ ګړی، او ورځ لس ګړی کوی او څو میاشتی وروسته (د سرطان اوله) کښی له شپی څنی څلور ګړی لندوی او په ورځ باندی ئی زیاتوی، او شپه لس ګړی، ځکه چه لمر او سپوږمی او ګرد (تول) ستوری او نور، بی ستا له ارادی څخه یوه ذره هم حرکت نشی کولی، لنده ئی داسی شوه چه څه موده ورځی اوږدوی او څه موده شپی اوږدوی، او څه موده د دی پر عکس کوی. (او الی الابد کله ورځ راولی او کله شپه).

---

## وَتُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَتُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ

وباسی (ته یا الله!) ژوندی له مړی نه. (لکه حیوان له نطفی نه، مرغه له هګی کامل له ناقص) وباسی (ته یا الله!.) مړی له ژوندی نه (لکه نطفه له حیوان ـ هګی له مرغه ـ ناقص له کامل نه)

---

**تفسیر:** یعنی لکه هګی له چرګی څنی او چرګه له هګی څنی بنی آدم له نطفی څنی او نطفه له بنی آدم څنی ـ له جاهل څنی عالم او له عالم څنی جاهل ـ له کامل څنی ناقص او له ناقص

ځنی کامل ایستل او جوړول هم دا ستا د قدرت کار دی.

وَتَرۡزُقُ مَن تَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٖ ﴿٢٧﴾

او روزی ورکوی (ته یا الله) هر هغه چاته چه اراده وفرمائی (د روزی ورکولو ئی دیره زیاته) بی حسابه.

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی یهودانو هسی ګڼله هغه لوئی چه پخوا په مونږ کښی وه، هغه به تل پاتی وی، او د الله تعالیٰ له قدرت ځنی غافل وو، چه الله تعالیٰ هر هغه چاته چه اراده وکړی عزت او سلطنت ورکوی، او هغه چاته چه اراده وکړی ذلت او نکبت ورکوی، په جاهلانو کښی کامل پیدا کوی (لکه چه د عربو په امیانو کښی ئی حضرت محمد صلی الله علیه وسلم) او له کاملانو ځنی جاهلان پیداکوی (لکه چه په بنی اسرائیلو کښی ئی وکړ) او هر هغه چا ته چه اراده ئی وشی (حسی او معنوی) بی حساب رزق ورکوی.

لَّا يَتَّخِذِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلۡكَٰفِرِينَ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ فَلَيۡسَ مِنَ ٱللَّهِ فِي شَيۡءٍ إِلَّآ أَن تَتَّقُواْ مِنۡهُمۡ تُقَىٰةٗۗ

نه دی نیسی مؤمنان کافران دوستان بی له مؤمنانو (یعنی مؤمنان دی یو له بله سره دوستی وکړی) او هر څوک چه وکړی دا (کار یعنی دوستی له کفارو سره) نو نه دی (د ده تعلق) له (دین د الله ـ د دوستی د) الله سره په هیڅ شی کښی مګر (خو روا ده دغه دوستی) که ځان ساتئ تاسی له دوی نه په ځان ساتنه سره،

**تفسیر:** یعنی کله چه د حکومت او د سلطنت او د جاه او عزت او د هر راز تقلباتو او تصرفاتو واګی یوازی د پاک الله په لاس کښی دی، نو هغو مسلمانانو لره چه په صحیحه معنی سره باور لرونکی دی، نه ښائی چه د خپلو دوستانو په دوستی او د خپلو اسلامی ورور په ورورولی اکتفا ونه کړی او خامخا د خدای جل جلاله د دښمنانو سره دوستی او مدارات وکړی. ځکه چه الله جل جلاله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم دښمنان هیڅکله د مسلمانانو دوستان نه شی کیدی، هر هغه څوک چه تیروځی او په دی خبط او خطا کښی ولویږی، نو ودی پوهیږی چه دوی د الله تعالیٰ له محبت او موالاتو سره هیڅ اړه (تعلق) او علاقه نه لری، ښائی د هر مسلمان خوف او ویره یوازی له الله جل جلاله څخه وی! او تولی هیلی او امیدونه ئی هم دغه پاک

الله ته وی، هغه کسان چه پاک خدای سره هم داسی تعلقات لری یوازی هم دوی د مسلمانانو د مرستی (مدد)، اعتماد او وثوق وړ (لائق) دی. هو! د تدبیر او انتظام په درجه کښی د کفارو له لوی ضرر څخه د خپلی ضروری ژغورنی (ساتنی) او د حفاظت صورتونه په مشروعو او معقولو طریقو سره غوره کول، د «ترک موالات» له حکم څخنی په دی ډول (طریقه) سره مستثنیٰ دی. لکه چه د ۹ جزء (د الانفال په ۱۶ آیت ۲ رکوع) کښی له ﴿ وَمَنْ يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ ﴾ څخنی ﴿ إِلَّا مُتَحَرِّفًا لِقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزًا إِلَىٰ فِئَةٍ ﴾ مستثنیٰ کړی شوی دی. همغسی چه هلته د «تحرف» او د «تحیز» په حالت کښی حقیقتاً «فرار من الزحف» نه وی او یوازی صورتاً وی، دلته هم ﴿ إِلَّا أَنْ تَتَّقُوا مِنْهُمْ تُقَاةً ﴾ حقیقی موالات نه دی او تش صوری «موالات» دی وګڼل شی! چه مونږ هغه د «مدارات» په نامه سره یادوو د دی مسئلی زیات تفصیل دی ۶ جزء د «المائدة» په ۸ رکوع د دی ۵۱ آیت د فوائدو په شرح کښی وکوت شی! ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَىٰ أَوْلِيَاءَ ﴾ الآیة ـ او زما هغه مستقله رساله دی هم ولوستله شی چه د حضرت الاستاذ محقق مترجم قدس الله روحه په اشاره سره لیکلی شوی ده فلیراجع!

---

وَيُحَذِّرُكُمُ اللَّهُ نَفْسَهُ ۗ وَإِلَى اللَّهِ الْمَصِيرُ ﴿٢٨﴾

---

او ویروی تاسی الله له (عذاب د) نفس خپل نه، او (خاص) طرف د الله ته دی ورتله (ستاسی او د تولو).

---

**تفسیر:** یعنی د مؤمن په زړه کښی ښائی اصلی ویره له پاک الله څخه وی. او داسی کومه خبره دی نه کوی، چه د الله تعالیٰ د ناراضی سبب شی. لکه چه له اسلامی جماعت څخنی تجاوز وکړی، او بی له ضرورته له کافرانو سره ظاهری یا باطنی «موالات» وکړی، یا د ضرورت په وخت کښی د موالاتو د غوره کولو په صورت کښی له شرعی حدودو څخنی تیری او تجاوز وکړی یا یوازی موهوم او حقیر خطرونه یقینی او مهم ثابت کړی، یا دا ډول (طریقه) مستثنیات یا شرعی رخصتونه د خپلو نفسانی غوښتنو آله وګرځوی، نو داسی کسانو لره ښائی چه دا خبره هم په یاد ولری چه دوی ګرد (تول) د پاک الله په لوی دربار کښی حاضریدونکی دی، او هلته به دوی د خپلو دغو دروغو، حیلو او پلمو (منصوبو) جزا مومی.
ښائی د قوی مؤمن شان، او د صحیح مسلمان ایمان داسی وی، چه له رخصت څخنی تیر شی! او عزیمت او فعالیت ته متوجه او څیر شی! او له مخلوق څخنی ونه ویریږی او تل تر تله له خالق جل و علا څخنی وویریږی!

---

قُلْ إِنْ تُخْفُوا مَا فِي صُدُورِكُمْ أَوْ تُبْدُوهُ يَعْلَمْهُ اللَّهُ ۗ

ووایه (ای محمده ! دوی ته) که پټ کړئ تاسی هغه شی چه په سینو (زړونو) ستاسی کښې دی یا ښکاره کړئ تاسی هغه ـ معلوم دی هغه (هم) پاک الله ته،

**تفسیر:** یعنی ممکن دی چه بنیادم خپل نیت او د زړه خبره له نورو څخنی پټه کړی ولی په دی دول (طریقه) الله تعالیٰ نشی تیر ایستلی. ﴿وَاللّٰهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ﴾ د (۱) جزء د البقره ۲۷ رکوع ۲۲۰ آیة.

وَيَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۗ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۲۹﴾

او معلوم دی (الله ته تول) هغه شیونه چه په آسمانونو کښې دی (له علویاتو) او هغه شیونه چه په ځمکه کښې دی (له سفلیاتو ـ نو الله ته ستاسی پټ او ښکاره هم معلوم دی.) او الله پر هر شی باندی (چه اراده) وکړی ښه قادر دی (چه ځینی ئی د داسی متخلفین تعذیب دی).

**تفسیر:** کله چه د ده علم دومره محیط او قدرت ئی داسی عام او تام دی نو مجرم ته د جرم پټول هیڅ امکان نه لری. او نه د دی خبری قدرت لری چه ځان له الله جل جلاله څخنی پټ کړی یا چیری ورځنی وتښتی.

يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ مُّحْضَرًا ۖۚ وَّمَا عَمِلَتْ مِنْ سُوْٓءٍ ۚ تَوَدُّ لَوْ اَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهٗٓ اَمَدًا ۢ بَعِيْدًا ؕ

(او وویریږئ له) هغی ورځی چه مومی به هر نفس (یکښې) هر هغه څه چه کړی وی له خیره (له نیکی پخپل مخ کښې) حاضر کړی شوی او هر هغه څه چه کړی وی ده له بدی نه آرزو به کوی دا (نفس) د دی چه کاشکی په منځ د دی (نفس کښې او په منځ د دغه (بد عمل) کښې مسافه وی لری (اوږده)

**تفسیر:** یعنی د قیامت په ورځ هر نیکی او بدی د هر انسان په مخ کښې حاضریږی. او د هغو د تول عمر کړدی (تولی) اعمالنامی به د دوی په لاسونو کښې ورکولی کیږی، په دی وخت کښې به کرد (تول) مجرمان هیله (امید) کوی، چه کاشکی دا ورځ له مونږ څخنی لری وی، یا زمونږ او د دی بدو عملونو په منځ کښې ډیره لری فاصله وی! چه مونږ هیڅ خپلو دغو عملونو ته نژدی شوی نه وی.

وَيُحَذِّرُكُمُ اللَّهُ نَفْسَهُ ۗ وَاللَّهُ رَءُوفٌ بِالْعِبَادِ ﴿٣٠﴾

او ویروی تاسی الله له (عذابه، د) نفس خپل نه او الله ډير مهربان دی پر بندګانو (خپلو).

**تفسیر:** دا هم د ده له مهربانی څخه ده چه د هغی لوئی ویروونکی ورځی له راتګه تر مخه تاسی ورځنی داروی. او په تکرار سره مو خبروی. چه له خرابو چارو څخه مخصوصاً د کافرانو له دوستی ـ څخه مو ځانونه وژغوریٔ (وساتیٔ)! او د ښیګنی (خیر) په لاره باندی سم لاړ شیٔ! او د قهار پروردګار له قهر څخه مو ځانونه لا له پخوا وساتیٔ! د پاک قرآن دا ځان ته یو دستور دی چه عموماً له خوف سره رجاء او هیلی (امید) سره د ویری مضمون ګډ اوروی. دلته ئی هم د ترهیب او ویری د مضمون د معتدل کولو له امله (وجی) ﴿ وَاللَّهُ رَءُوفٌ بِالْعِبَادِ ﴾ په آخر کښی راوړ. یعنی له الله جل جلاله څخه وویریږیٔ! او خراب او بد کارونه پریږدیٔ! نو د ده مهربانی بیا ستاسی د استقبال له پاره تیاره ده. او نه ښائی چه تاسی بی هیلی (بی امیده) شیٔ! راشیٔ چه مونږ تاسی ته داسی یوه لاره دروښیو چه که په هغی باندی لاړ شیٔ نو د پوره رحمت او مغفرت وړ (لائق) او مستحق ګرځیٔ، بلکه د الله تعالیٰ په دوستانو کښی هم حسابیدی شیٔ. لکه اوس چه وائی

قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۗ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿٣١﴾

ووایه (ای محمده! دوی ته) که چیری یئ تاسی چه محبت کویٔ له الله سره پس متابعت وکړیٔ زما چه محبت به وکړی الله له تاسی سره (د ثواب په درکولو) او مغفرت به وکړی تاسی ته ګناهونه د تاسی، او الله مغفرت کونکی دی (د خطیاتو) ډیر رحم والا (د اجر او ثواب په انعام سره)

**تفسیر:** د الله تعالیٰ د دښمنانو د موالات او محبت له منع کولو څخه وروسته د الله تعالیٰ د مینی او محبت معیار راښئی. یعنی که په دنیا کښی څوک د خپل حقیقی مالک د محبت دعوی یا خیال لری نو لازم دی چه هغه د محمدی صلی الله علیه وسلم دین د متابعت په محک (کسوټیٔ) باندی وسولولی شی، چه د ده سره او ناسره ښکاره شی. هر سړی په هره اندازه چه د محمدی صلی الله علیه وسلم په شریعت باندی سم ځی، او د اسلامی دین رڼا د خپلی لاری مشعل

ګرځوی، نو ښائی په همغه اندازه سره د الله تعالیٰ په محبت کښې صادق او سوچه وپیژانده شی، او په هره اندازه چه دی په دی دعوی کښې رښتین وی په همغه اندازه سره هغه د محمدی صلی الله علیه وسلم شریعت په پیروی کلک او تینګ ګانه شی، چه د هغه میوه به ده ته داسی په لاس ورځی چه پاک الله به د ده سره مینه کوی، او د الله تعالیٰ د مینی، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د متابعت په برکت به د ده هغه پخوانی ګناهونه معاف، او وروسته له هغه به د پاک الله د راز، راز (قسم قسم) ظاهری او باطنی مهربانیو مورد وګرځی، ګواکی د توحید له بیان څخه وروسته له دی ځایه د نبوت په بیان شروع کیږی، او د آخرالزمان پیغمبر رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت ته بلنه کیږی.

---

قُلۡ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَۖ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡكَٰفِرِينَ ۝٣٢

---

ووایه (ای محمده دوی ته) چه اطاعت کوئ تاسی د الله او د رسول (د الله چه محمد دی) پس که وګرځیدل دوی ( له دی اطاعت نه) پس بیشکه الله دوستی نه کوی له کافرانو سره (نو په عذابوی ئی).

---

**تفسیر:** یهودانو او نصرانیانو به ویل چه ﴿ نَحۡنُ أَبۡنَٰٓؤُاْ ٱللَّهِ وَأَحِبَّٰٓؤُهُۥ ﴾ مونږ د الله تعالیٰ ځامن او دوستان یو.» دلته دا ښکاره شوه چه کافر هیڅکله د الله تعالیٰ محبوب نشی کیدی او که په رښتیا سره مو د هغه محبوبیت په کار وی نو د هغه د احکامو په تعمیل کښې زیار (محنت) وکړئ او د ده د رسول الله صلی الله علیه وسلم احکام ومنئ او د الله تعالیٰ د لوی محبوب او دوست د سنتو متابعت وکړئ! د نجران جرګی هم داسی ویلی وو، چه مونږ د مسیح علیه السلام تعظیم او عبادت د الله تعالیٰ د تعظیم او د محبت له پاره کوو، په دی سره د هغو ځواب هم ورکړ شو. وروسته له دی نه د الله تعالیٰ د هغو خو بندګانو حال را اوراوه شی، چه خدای جل جلاله دوی او دوی خدای جل جلاله دوست ګڼی او د نجران د جرګی په رعایت د حضرت مسیح علیه السلام سوانح په شرح او بسط سره بیانیږی، دا هم د خاتم الانبیاء محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم د مبارک ذکر تمهید دی، لکه چه وروسته له دی نه راښکاری.

---

إِنَّ ٱللَّهَ ٱصۡطَفَىٰٓ ءَادَمَ وَنُوحٗا وَءَالَ إِبۡرَٰهِيمَ وَءَالَ عِمۡرَٰنَ

---

بیشکه چه الله غوره کړی دی آدم او نوح او اولاده د ابراهیم (او ابراهیم) او اولاده د عمران (او عمران).

---

**تفسیر:** «یعنی بیشکه الله غوره کړی دی آدم علیه السلام په نبوت، رسالت، د اسماؤ په تعلیم

د ملائکو په سجده، په بی له مور او پلاره پیدا کولو او د تولو انسانانو په پلار توب سره او غوره کړی ئی دی نوح علیه السلام په نبوت، رسالت، د عمر په اوږد والی، او د پخوانی شریعت په منسوخولو سره، او ابراهیم علیه السلام او آل د ده چه اسمٰعیل علیه السلام او اسحٰق علیه السلام او د دوی اولاده چه زمونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم هم په دغه اولاده او آل کښی داخل دی، او آل د (عمران) چه موسیٰ او هارون او بی بی مریمه او عیسیٰ علیهم السلام پکښی شامل دی په خلت، رسالت او نورو مفاخرو او محامدو سره» عمرانان دوه دی، یو د حضرت موسیٰ علیه السلام پلار دوهم د مریمی رضی الله تعالیٰ عنها پلار زیاتره پخوانی او ورستنی علماء له دی (عمران) ځنی ثانی (عمران) مرادوی ځکه چه ﴿ إِذْ قَالَتِ امْرَأَتُ عِمْرَانَ ﴾ د همغه دوهم (عمران) له کورنی څخه قصه کوی، او غالباً د دی سورت نوم به هم له هم دی امله (وجی) (آل عمران) ایښی شوی وی، چه په هغه کښی د ثانی (عمران) د کورنی (یعنی د حضرت مسیح علیه السلام او مریمی رضی الله تعالیٰ عنها) قصه په بسط او تفصیل سره ذکر شوی ده.

---

عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۳۳﴾ ذُرِّيَّةً بَعْضُهَا مِنْ بَعْضٍ ؕ

---

پر تولو خلقو (د زمانی خپلی په رسالت او روحانی او جسمانی خصائصو سره) حال دا چه اولاده ۇ ځینی د دوی له ځینو نورو څخه،

---

**تفسیر:** د الله تعالیٰ په مخلوقاتو کښی ځمکه، آسمان، لمر، سپوږمی، ستوری، پرښتی، جن، شجر، حجر، مدر او نور ګرد (تول) شامل دی، مګر هغه د روحانی ملکاتو او جسمانی کمالاتو مجموعه چه الله جل جلاله په خپل محیط علم او بالغه حکمت سره د حضرت ابوالبشر آدم علیه السلام په وجود کښی په ودیعت ایښی ده، د هغی بل نظیر او مثال د نورو مخلوقاتو په وجود کښی نه لیده کیږی. د آدم علیه السلام له مسجودالملائکه ګرځولو ځنی ئی دا خبره ښکاره کړه چه د آدم علیه السلام اعزاز او اکرام د ده په دربار کښی د نورو مخلوقاتو په نسبت زیات دی. د آدم علیه السلام دا انتخاب او غوره والی، فضل او شرف چه مونږ ئی په «نبوت» سره تعبیروو، د ده په شخصیت پوری محدود او مقصود نه ۇ بلکه د ده په اولاده کښی نوح علیه السلام ته هم ور ورسید. بیا له ده ځنی د ده په اولاده کښی حضرت ابراهیم علیه السلام ته ورسید، له دی ځایه ئی یو نوی صورت پیدا کړ. له آدم او نوح علیهما السلام څخه وروسته څومره انسانان چه په جهان کښی پیدا او ودان شوی دی دوی ګرد (تول) د هم دی دوو معظمو رسولانو له اولادی، ذرئی او ځوځات ځنی وو. پرته (علاوه) له دی د ابراهیم علیه السلام له زمانی ځنی وروسته بر سیره د دوی له ذرئی او نسل ځنی په دنیا کښی نوری کورنی او تبرونه هم موجود وو مګر هغه پاک الله چه پخپلو بی حسابو مخلوقاتو کښی ئی د نبوت د منصب له پاره آدم علیه السلام غوره کړی ۇ، ده په خپل محیط علم او کامل اختیار سره په راتلونکو پیریو

کښې هم د زرهاؤ کورنیو په منځ کښې، د دې لوی منصب له پاره د ابراهیم علیه السلام کورنی مخصوصه کړه څومره انبیاء او رسولان چه له ابراهیم علیه السلام څخه وروسته مبعوث شوی دی هغه تول د ده د دوو ځامنو حضرت اسحٰق علیه السلام او حضرت اسمٰعیل علیه السلام له اولادی څخه وو. څرنګه چه د نسب سلسله عموماً پلار ته منسوبیږی او حضرت مسیح علیه السلام بی پلاره پیدا شوی دی نو داسی وهم کیدی شو چه د ده نسل به د ابراهیم علیه السلام له نسل ځنی مستثنیٰ وی، له دی کبله (وجی) الله تعالیٰ آل د عمران او ذریه (بعضها من بعض) وفرمایه، او په دی سره ئی تنبیه ورکړه چه هر کله حضرت مسیح علیه السلام یواځی د خپلی مور له ګیدی ځنی پیدا شوی دی، نو د هغه د نسب سلسله هم د مور له لوری اخیسته کیږی. نه چه معاذ الله د الله تعالیٰ له لوری او ښکاره ده چه د ده د مور صدیقی مریمی رضی الله تعالیٰ عنها د پلار د نسب سلسله بالاخره حضرت ابراهیم علیه السلام ته رسیږی. نو د (عمران) آل او د ابراهیم علیه السلام آل دواړه سره یو دی، او هیڅ یو رسول له ابراهیمی کورنی ځنی د باندی پاتی نه شو.

---

وَاللّٰهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٣٤﴾

---

او الله ښه اوریدونکی دی (د ګردو (تولو) اقوالو) ښه عالم (پر تولو احوالو).

---

**تفسیر:** الله تعالیٰ د ګردو (تولو) دعاګانی او خبری اوری، او د ګردو (تولو) په ظاهری او باطنی احوالو او استعدادونو باندی پوهیږی، نو داسی وهم دی ونه کړ شی چه هم داسی د «**کیف ما اتفق**» په دول (طریقه) به ئی غوره کری وی. د الله تعالیٰ هر کار په پوره علم او حکمت، تدبیر او مصلحت باندی بنا دی.

---

إِذْ قَالَتِ امْرَأَتُ عِمْرَٰنَ رَبِّ إِنِّى نَذَرْتُ لَكَ مَا فِى بَطْنِى مُحَرَّرًا فَتَقَبَّلْ مِنِّىٓ ۖ إِنَّكَ أَنتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٣٥﴾

---

(یاد کړه ای محمده!) هغه وخت چه وویل (حنی) ښځی د عمران چه ای ربه زما بیشکه ما، نذر کړی می دی تاته هغه شی چه په ګیده زما کښی دی، حال دا چه هغه به آزاد وی (له نورو مشاغلو د بیت المقدس خدمت ته) پس قبول کړه ته (ای ربه! دا نذر) له ما نه بیشکه ته چه ئی هم دا ته ئی ښه اوریدونکی (د ګردو (تولو) اقوالو) ښه عالم (په تولو احوالو)

---

**تفسیر:** د (عمران) د ښځی نوم (حنه بنت فاقوذا) دی. دی د خپلی زمانی له دوده (رواجه)

سره سم پخپل ځان باندی نذر منلی ؤ چه «ای ربه! هغه هلک چه زما په ګیډه کښی دی ستا په نامه دی آزاد او خوشی وی.» د دی خبری مطلب دا دی چه هغه له ګردو (تولو) دنیوی مشاغلو او د نکاح له قیده او له نورو شیانو څخنی خلاص او تل به د الله جل جلاله په عبادت کښی بوخت (مشغول) او د معبد په خدمت کښی به لګیا وی. ای الله جل جلاله ته له خپلی مهربانی څخنی زما دا نذر قبول کره! ته زما عرض اوری، او زما نیت او اخلاص تاته ښه معلوم دی! ګواکی په دی لطیف ډول (طریقه) سره ئی وغوښت چه هلک ور په برخه شی، ځکه چه جینۍ د هغه خدمت له پاره نه قبلیدله.

فَلَمَّا وَضَعَتْهَا قَالَتْ رَبِّ إِنِّي وَضَعْتُهَا أُنثَىٰ

پس کله چه وئی زیږاوه هغه (نذر) نو وویل (حنی) چه ای ربه زما بیشکه زه چه یم ومی زیږاوه هغه (نذر) حال دا چه ښځه (جینۍ) ده،

**تفسیر:** دا ئی په حسرت او افسوس سره وویل ځکه چه هغه پیښه د دی له توقع او هیلی (امید) څخنی پرته (علاوه) پیښه شوی وه، او د جونو د خدمت منلو دستور په معابدو کښی نه ؤ.

وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا وَضَعَتْ وَلَيْسَ الذَّكَرُ كَالْأُنثَىٰ

او الله ښه پوه دی په هغه شی چه زیږولی ؤ دی (حنی د عمران ښځی)، او نه دی نارینه (چه حنی غوښتی ؤ له پاره د خدمت د بیت المقدس) په شان د دی ښځی (جینۍ)

**تفسیر:** دا د خدای جل جلاله کلام دی چه د حکایت په منځ کښی د معترضی جملی په ډول (طریقه) نازل شوی دی یعنی (بی بی حنی) ته ښکاره نه وه چه څه ئی زیږولی دی؟، د دی جینۍ قدر او قیمت الله تعالیٰ ته ښه معلوم دی ـ هغه هلک چه دی غوښت دی جینۍ ته کله رسیدی شی. دا جینۍ بالذات مبارکه او مسعوده ده او د دی په وجود کښی د یو عظیم الشان مبارک او مسعود هلک وجود منطوی او نغښتلی پروت دی.

وَإِنِّي سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ وَإِنِّي أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ ﴿٣٦﴾

او بیشکه ما نوم کیښود د دی مریمه او بیشکه زه پناه ورکوم دی ته په تا پوری او اولاد د دی (مریمی ته) له شیطان مردود (رټلی شوی) نه.

**تفسیر:** حق تعالیٰ دا دعا قبوله کره. په حدیث شریف کښې دی «هر کله چه د بنیادمانو اولاده د زیږیدلو په وخت کښې له موره جلا (جدا) شي او په ځمکه باندې ولویږي نو شیطان ئې مس کوي، مګر عیسیٰ علیه السلام او مریمه رضی الله تعالیٰ عنها له دې مس څخه مستثنیٰ دي» د دې حدیث مطلب د نورو احادیثو له یو ځای کولو سره داسې کیږي چه هر مولود اصلاً په صحیح فطرت پیدا کیږي. چه دغه فطرت له لویني او د ده د عقل او تمیز له ظهور څخه وروسته څرګندیږي. ولې د شاؤ خوا د حالاتو او خارجي اثراتو له امله (وجې) دیر ځلې د هغه اصلي فطرت ورکیږي، چه د دغه مطلب تعبیر په حدیث کښې په **«فابواه یهودانه و ینصرانه»** سره شوی دی، بیا څنګه چه د ایمان او طاعت تخم د ده د فطرت په جوهر کښې پټ او په غیر مرئي ډول (طریقه) ایښود شوی دی. حال دا چه په هغه وخت کښې ایمان لا څه، چه د غتو غتو محسوساتو له ادراک او شعور نه هم هغه مولود عاجز وي. په هم دې توګه (طریقه) د ولادت په وخت کښې په غیر محسوس ډول (طریقه) د شیطان په مس کولو سره خارجي اثر شروع کیږي. دا ضروري نه دی چه هر څوک د شیطان د مس کولو اثر قبول کړي، یا که ئې قبول کړي نو وروسته له هغه، هغه اثر همغسې پاتې هم وي. څرنګه چه د ګردو (ټولو) انبیاؤ علیهم السلام د عصمت تکفل الله جل وعلیٰ شانه فرمایلی دی نو که فرضاً د ولادت په وخت کښې دا پیښه وریپښه شوې هم وي، او د مریمې رضی الله تعالیٰ عنها او د عیسیٰ علیه السلام په شان له دې ضابطې څخه مستثنیٰ نه وي. نو بیا په دې کښې هیڅ شبهه نشته، چه پر هغو مقدسو او معصومو بندګانو باندې د شیطان له دې حرکته قطعاً هیڅ یو مضر تاثیر نه لویږي، فقط دومره یو فرق به وي چه مریمې رضی الله تعالیٰ عنها او عیسیٰ علیه السلام ته د کوم مصلحت له سببه دا پیښه بیخي وریپښه شوې نه ده، او نورو ته پیښه شوې ده، خو بې اثره پاتې شوې ده، دا قسم جزئي امتیازات د کلي فضیلت د ثابتیدلو موجب نه شي کیدی. په حدیث شریف کښې راغلي دي چه «دوو جونو سندرې ویلې رسول الله مبارک له هغو څخه خپل مخ واړاوه ـ ابوبکر صدیق اکبر رضی الله عنه د دوی له څنګه تیر شو، مګر دوی په خپلو سندرو کښې همغسې لګیا وي، وروسته له دې حضرت عمر فاروق اعظم رضی الله تعالیٰ عنه راغی نو سم د لاسه هغه جینکۍ وتښتیدلې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل «په هر لاره چه عمر تیریږي، شیطان هغه لاره پریږدي او لرې ترې تښتي.» آیا له دې نه کوم څوک باوره سرې دا مطلب اخیستی شي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل ځان باندې د حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه فضیلت ثبت کړ؟. هو! د حضرت ابوهریره رضی الله تعالیٰ عنه هغه حدیث چه د شیطان د مس کولو په باره کښې دی د شیطان د مس کیدلو حدیث د دې آیت له تفسیر سره په ښکاره ډول (طریقه) ښه نه لګیږي، مګر خو دا چه د ﴿ وَإِنِّىٓ أُعِيذُهَا بِكَ ﴾ الآیه ـ په آیت کښې د عطف واو د ترتیب له پاره وانه خیستل شي، یا په حدیث کښې له استثنا څخه یواځې د مسیح علیه السلام د پیدا کیدلو واقعه له بي بي مریمې رضی الله تعالیٰ عنها څخه مراد وي. او (مریم) او (مسیح) جلا جلا (جدا جدا) مراد نه

وی. لکه چه د بخاری شریف په یوه روایت کښې یوازې د حضرت عیسٰی علیه السلام په ذکر باندې اکتفاء شوی ده. والله اعلم.

## فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُولٍ حَسَنٍ وَأَنْبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا

پس قبوله کړه دا (مریمه) رب د دې (د نارینه په ځای) په قبلولو ښو سره او زرغونه (لویه) ئې کړه په زرغونولو (لویولو) ښو سره او (الله) کفیل وګرځاوه دې لره زکریا علیه السلام

**تفسیر:** یعنی اګر که جینۍ وه خو الله تعالٰی هغه له هلک څخه زیاته وګرځوله، او وئې منله. د بیت المقدس د مجاورینو په زړونو کښې ئې دا خبره واچوله چه له عام دود (رواج) او دستور څخه پرته (علاوه) هغه جینۍ هم د بیت المقدس په خادمانو کښې شامله کړی، او همغسې ئې مریمې رضی الله تعالٰی عنها ته هم د قبول صورت ورعطا او خپل منلی بنده زکریا علیه السلام ته ئې په کفالت ورکړه. او په خپل دربار کښې ئې په ښو منلو سره سر لوړی ورکړه، په جسمانی، روحانی، علمی، اخلاقی او له هر حیثه ئې زیاته ترقی ور په برخه کړه. کله چه په مجاورینو کښې د دې د پالنې په نسبت جګړه پیښه شوه نو د انتخاب قرعه د حضرت زکریا علیه السلام په نامه وخته، چه دا جینۍ د خپلې ترور د شفقت په غیږ کښې تربیت ومومی، او د زکریا علیه السلام له علم او دیانت څخه ګټوره شی. زکریا علیه السلام د مریمې رضی الله تعالٰی عنها په تربیت او مراعات کښې څومره ئې چه د لاسه کیده هم هغومره ئې کوښښ کاوه. کله چه بی بی مریمه رضی الله تعالٰی عنها پیغله شوه، نو مسجد سره ئې نژدې ورته یوه ځان ته حجره مخصوصه کړه چه دې بی بی به توله ورځ هلته عبادت کاوه، او د شپې له مخې به بیرته خپلې ترور کره ورتله.

## كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا

هر کله به چه ننوت دی ته زکریا په محراب (په عبادت خانه) کښې نو موندله به ئې له دې (مریمې) سره څه روزی (یعنی میوې د ژمي په اوړی، او میوې د اوړی په ژمي کښې)

**تفسیر:** د اکثرو اسلافو په نزد له (رزق) څخه مراد ظاهری خواړه دی. وائی چه له بی بی مریمې رضی الله تعالٰی عنها سره بې موسمه میوې پیدا کیدې، د اوړی تازه میوې په ژمي کښې او د ژمي تازه میوې به په اوړی کښې له دې سره تل پرتې وې. او له (مجاهد) څخه یو داسې

روایت هم شوی دی چه له «رزق» ځنی علمی صحیفی مراد دی، چه ښائی هغو ته روحانی غذا وویله شی، په هر حال سره اوس د بیبی مریمی رضی الله تعالیٰ عنها ښکاره برکات او کرامات او فوق العاده ښکاره علامی ځرګندی شوی، چه د هغو د بیا بیا کتلو نه د زکریا علیه السلام طاقت ونه شو او په تعجب سره ئی له بی بی مریمی رضی الله تعالیٰ عنها څخه داسی پوښتنه وکړه

قَالَ يٰمَرْيَمُ اَنّٰى لَكِ هٰذَا ؕ قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۳۷﴾

وویل (زکریا) ای مریمی له کومه (راغلی) ده تا ته دا روزی؟ وویل (مریمی زکریا ته) چه دا (روزی) له طرفه د الله ده، بیشکه چه الله روزی ورکوی هغه چا ته چه اراده وفرمائی (د روزی ورکولو ئی ډیره پریمانه) بیحسابه.

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ قدرت ماته داسی شیان رارسوی چه له قیاس او ګمان ځنی بهر دی.

هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهٗ ۚ قَالَ رَبِّ هَبْ لِىْ مِنْ لَّدُنْكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً ۚ اِنَّكَ سَمِيْعُ الدُّعَآءِ ﴿۳۸﴾

په دغه ځای (یا وخت) کښی دعا (غوښتنه) وکړه زکریا له ربه خپله، وویل (زکریا) ای ربه راوبښه! (راکړه) ماته له نزده خپله اولاد ښه پاکیزه ! بیشکه ښه اوریدونکی (قبلوونکی) د دعا ئی.

**تفسیر:** حضرت زکریا علیه السلام بیخی سپین ږیری او (۱۲۰) کلن شوی ؤ. ښځه ئی (۹۸) کلنه او بیخی شنده وه. دوی ته د اولاد پیدا کیدلو هیڅ یوه ښکاره هیله (امید) نه وه. د بی بی مریمی د دی فوق العاده خیر او برکت او خوارقو د لیدلو په سبب ناڅاپه د زکریا علیه السلام په زړه کښی یو جوش پیدا شو. او سم د لاسه ئی دا په زړه کښی ور وګرځیده، چه ماته هم ښائی چه د اولاد په نسبت د پاک الله په دربار کښی دعا وکړم، هیله (امید) شته چه ماته به هم دا میوه بی له موسمه راکړه شی. یعنی په دی زړښت (بوډا والی) کښی به د پاک الله په مهربانی اولاد راپه برخه شی لکه چه (بی بی حنی) زړی شندی ته بی بی مریمه ورکړی شوی ده. د «ذرية» اطلاق په واحد او کثیر یو رنګ کاوه شی.

فَنَادَتْهُ الْمَلَٰٓئِكَةُ وَهُوَ قَآئِمٌ يُصَلِّي فِي الْمِحْرَابِ أَنَّ اللَّهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحْيَىٰ

نو ورناری کړی ده ته (زکریا ته) پرښتو (جبریل) حال دا چه دی ولاړ ؤ لمونځ ئی کاوه په محراب (عبادت خانه) کښی چه بیشکه الله زیری کوی په تا د یحییٰ (چه ستا زوی به وی)

**تفسیر:** دعا ئی ومنله شوه زیری ور ورسید چه ستا په کور کښی یو هلک پیدا کیږی، چه د هغه نوم یحییٰ علیه السلام ایښود شوی دی. د «الملئکة» کلمه د جمعی په صورت سره راوړل یا به تعظیماً وی یا به د ملائکو جنس ورڅخه مراد وی. لکه چه ویل کیږی «زید یرکب الخیل».

مُصَدِّقًا بِكَلِمَةٍ مِّنَ اللَّهِ

حال دا چه تصدیق کوونکی به وی په یوه کلمه سره چه له (طرفه د) الله ده

**تفسیر:** له یوی کلمی څخنی دلته حضرت مسیح علیه السلام مراد دی چه د الله تعالیٰ د حکم سره سم بی له پلاره پیدا شوی دی. حضرت یحییٰ علیه السلام لا له په خوا څخه خلقو ته خبر ورکاوه چه مسیح علیه السلام پیدا کیدونکی دی.

وَسَيِّدًا وَحَصُورًا

حال دا چه سردار به وی (د خپل قوم په علم، حلم او تقویٰ سره) او ډیر منع راوړونکی به وی (له شهواتو سره له قدرته)

**تفسیر:** یعنی له لذاتو او شهواتو څخنی به زیات ځان ساتونکی وی. او د الله تعالیٰ په عبادت کښی به دومره لګیا وی چه د ښځی په لوری به د التفات کولو وار هم نه ورته رسیږی. دا د حضرت یحییٰ علیه السلام د مخصوص حال بیان ؤ چه له هغه څخه د محمدی امت له پاره کومه قاعده نشی کیدی. زمونږ د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم پوره امتیاز دا دی چه د عبادت له کمال سره ئی د معاشرت کمال یو ځای کړ.

وَنَبِيًّا مِّنَ الصّٰلِحِينَ ﴿۳۹﴾

او نبي به وي له (ډلې د) صالحانو نه (چه نه به خطا کوي او نه به ګناه ته قصد کوي)

**تفسير:** د صلاح او رشد په اعلیٰ مرتبه باندې به فائز کيږي چه هغه ته «نبوت» ويل کيږي. يا به «د صالح» معنی نيک عمله وي، چه په هغه تقدير به د هغه معنی خورا (ډير) نيک عمل کيږي.

قَالَ رَبِّ اَنّٰى يَكُونُ لِي غُلٰمٌ وَّقَدْ بَلَغَنِيَ الْكِبَرُ وَامْرَاَتِي عَاقِرٌ ۚ قَالَ كَذٰلِكَ اللّٰهُ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ﴿۴۰﴾

وويل (زکريا) «اې ربه زما څرنګه به پيدا کيږي ما لره هلک؟ حال دا چه په تحقيق رسيدلې دی ماته زوړوالي او ښځه مې (هم) شنډه ده»، وويل (جبريل) هم داسې (له زوړ او زړې شنډې ښځې څخه د اولاد پيدا کولو په شان) الله کوي هغه کار چه اراده وفرمائي (د کولو ئې که مخالف وي له عادته يا موافق).

**تفسير:** يعنې د هغه قدرت او مشيت د اسبابو په سلسلې پورې ترلې نه دی. اګر که په دې عالم کښې د هغه عادت هم داسې دی چه له عادي اسبابو څخه مسببات پيدا کوي، خو کله د عادي اسبابو په خلاف په غير معمولي طريقې سره د يوه شي پيدا کول هم د هغه خاص عادت دی. اصل دا دی چه مريمې صديقې رضي الله تعالیٰ عنها ته په خارق العاده ډول (طريقه) رزق رسيدل او ډير غير عادي واقعات ورڅرګنديدل د دې وضعيت په ليدو سره د بي بي مريمې په حجره کښې ناڅاپه د زړه له کومې د حضرت زکريا عليه السلام دعا کول بيا ده ته او د ده شنډې ښځې ته په عين زړښت کښې په غير عادي توګه (طريقه) اولاد ورکول، بايد د قدرت دغه ګردې (ټولې) علامې د هغه عظيم الشان آيت تمهيد وګڼلې شي چه د بي بي مريمې رضي الله تعالیٰ عنها له وجوده بې د زوج له نژدې کيدلو په قريب مستقبل کښې ظاهر کيدونکې ؤ ـ ګواکې د حضرت يحيیٰ عليه السلام په غير معتاد ولادت باندې، ﴿ كَذٰلِكَ اللّٰهُ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ﴾ فرمايل تمهيد ؤ له پاره د ﴿ كَذٰلِكِ اللّٰهُ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ﴾ چه وروسته له دې نه د حضرت مسيح عليه السلام د غير معتاد ولادت په سلسله کښې راتلونکې دی.

قَالَ رَبِّ اجْعَلْ لِّيْ اٰيَةً ۭ

ویل (زکریا) ای ربه زما وګرځوه ما لره څه علامه (د حمل چه لا زما د شکر کولو سبب شي)

**تفسیر:** یعني چه له هغه ځنی څرګند شي چه اوس حمل قرار نیولی دی تر څو ده ته د ولادت د آثارو د نژدی والی د لیدلو له کبله (وجی) یوه نوی خوشالی هم حاصله او د نعمت په شکر کښی زیاتره لګیا شي.

قَالَ اٰيَتُكَ اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ اِلَّا رَمْزًا ؕ

نو وویل (جبریل) «علامه» ستا دا ده چه خبری به نه کوی ته له خلقو سره دری ورځی (او شپی) مګر په اشاره سره،

**تفسیر:** یعني هلته به تاته دا حالت درپیښ شي چه تر دری ورځو او شپو پوری به له خلقو سره پرته (علاوه) له اشاری هیڅ خبری ونشي کړی، او ستا ژبه یوازی د پاک الله په ذکر کښی لګیا اوسی، نو وپوهیږه چه اوس حمل مستقر شوی دی، سبحان الله! هسی علامه ئی تاکلی (مقرر کړی) ده چه د علامو علامه وی. او د خبریدلو ځنی کوم غرض چه د نعمت شکر دی هغه هم علیٰ وجه الکمال حاصل شي ګواکی که وغواړی چه پرته (علاوه) د الله تعالیٰ له ذکر او فکر ځنی کوم شي ووینی نو په خپله ژبه سره ئی ونه شي ویلی.

وَاذْكُرْ رَّبَّكَ كَثِيْرًا وَّسَبِّحْ بِالْعَشِيِّ وَالْاِبْكَارِ ﴿۴۱﴾

او یادوه رب خپل ډیر (له پاره د شکر)! او تسبیح وایه (لمونځ کوه)! په آخر د ورځی کښی او په اول د ورځی کښی.

**تفسیر:** یعني په دغه وخت کښی بنائی چه ډیر زیات د الله تعالیٰ په ذکر او فکر کښی مشغول، او سبا او بیګا په تسبیح او تهلیل کښی مصروف اوسی! معلومیږی چه له بنیادمانو سره خبری نه کول یو اضطراری کار او د دی له پاره ؤ چه هغه ورځی یوازی د پاک الله ذکر، شکر او فکر ته فارغی او تشی پاتی شی، مګر په ذکر، فکر او شکر بوخت (مصروف) او مشغول کیدل ـ اضطراری نه ؤ بلکه په هغو مامور شوی ؤ.

وَاِذْ قَالَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ يٰمَرْيَمُ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰكِ وَطَهَّرَكِ

وَاصْطَفٰىكِ عَلٰى نِسَآءِ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۲﴾

او (یاد کړه ای محمده!) هغه وخت چه وویل پرښتو (یعنی جبریل) ای مریمې! بیشکه چه الله غوره کړې ئې ته (په کرامت او عبادت) او پاکه کړې ئې ته (له بدو اقوالو، افعالو او احوالو څخه) او غوره کړې ئې ته پر ګردو (تولو) ښځو د عالمیانو (یعنی پر ښځو د زمانې خپلې)

**تفسیر:** د حضرت زکریا او یحییٰ علیهما السلام کومه قصه چه د ضمنی مناسباتو له امله (وجی) په منځ کښې راغلې وه، او په هغې کښې د آل عمران د اصطفاء تاکید او د حضرت مسیح علیه السلام د قصې تمهید ؤ دلته اخر ته ورسیده وروسته له دې بیانه بیا د مریمې رضی الله تعالیٰ عنها او د مسیح علیه السلام د واقعاتو په لوری کلام منتقل کړ شو او اوس پخوا له مسیح علیه السلام څخنې د هغه د مور فضل او شرف بیانوی یعنی پرښتې بی بی مریمې رضی الله تعالیٰ عنها ته وویل چه ته د پاک الله له خوا څخنې لا پخوا غوره شوې ئې چه سره له جلتوبه (جینکتوبه) د بیت المقدس په خادمانو کښې د نذرانې په توګه (طریقه) منلې شوې ئې! او راز راز (قسم قسم) لوړ احوال او عالی کرامات درعنایت شول! ښه اخلاق پاک طبیعت، ظاهری او باطنی نزاهت ئې دروبانبه! او د خپل مسجد د خدمت وړ (لائق) ئې وګرځولې، او تاته ئې د ګرد (تول) جهان پر ښځو په څینو وجوهو کښې فضیلت درکړ! مثلاً په تا کښې ئې هسې یو استعداد کیښود، چه بی د بشر له مس کولو څخه یوازې د پاک الله په کامل قدرت لکه عیسیٰ علیه السلام غوندې یو اولو العزم رسول له تا څخه پیدا شی، چه په دنیا کښې داسې سر لوړی او امتیاز د هیڅ یوې بلې ښځې په برخه نه دی شوی.

یٰمَرْيَمُ اقْنُتِیْ لِرَبِّكِ وَاسْجُدِیْ

ای مریمې فرمان برداره شه! (ولاړه شه! بندګی کوه!) له پاره د رب خپل! او سجده کوه!

**تفسیر:** یعنی کله چه الله تعالیٰ داسې عزت او لوړه مرتبه تاته درکړه نو ښائی چه ته له اخلاص او تذلل سره د خپل رب جل جلاله په مخ کښې سرښکته کړې! او د عبودیت د وظائفو په انجامولو کښې لا زیاته لګیا او مشغوله اوسې! څو هغه لوی امر چه د هغه د ظهور له پاره ته د وسیلې په دول (طریقه) درولې شوې ئې ښکاره شی.

وَارْكَعِیْ مَعَ الرّٰكِعِیْنَ ﴿۴۳﴾

او رکوع کوه! له نورو رکوع کوونکو سره (له نورو لمونځ کوونکو سره په جماعت لمونځ کوه!)

**تفسیر:** لکه چه رکوع کوونکی د پاک الله په مخ کښې «رکوع» ته ځی ته هم همغسی «رکوع» ته ولاړه شی! یا ئی دا مطلب چه په جماعت سره لمونځ ادا کړه! او څرنګه چه لږ تر لږه په رکوع کښې له امامه سره شاملیدونکی، د هغه رکعت نیوونکی ګڼل شی نو ښائی د دی له امله (وجی) لمونځ د رکوع په عنوان سره یاد کړی شوی وی، **کما یفهم من کلام ابن تیمیة رحمة الله علیه فی فتاواه والله‌اعلم** په دی تقدیر سره که په «اقنتی» کښې له «قنوة» ځنی «قیام» مراد شی، نو د «قیام» رکوع، او سجود یعنی د لمانځه د دری واړو هیئتونو ذکر به په دی آیت کښې راځی.

**(تنبیه):** امکان لری چه په هغی زمانی کښې به ښځی په عمومی ډول (طریقه) سره په جماعت کښې شریکیدی، یا خاص له فتنی ځنی د مأمون پاتی کیدلو په صورت به دوی ته اجازه شوی وی چه جماعت وکړی. یا به دا د بی‌بی مریمی رضی الله تعالیٰ عنها خصوصیت وی، یا به بی بی مریمی رضی الله تعالیٰ عنها پخپله حجره کښې یواځی، یا له نورو ښځو سره په ګډه امام پسی اقتدا کوله، او لمونځونه به ئی کول، دا ګرد (تول) احتمالات شته. والله اعلم.

ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهِ اِلَيْكَ ؕ

دا (د حنی، مریمی، زکریا او د یحیٰی ذکر شوی قصی) له اخبارونو د غیبو څخه دی چه مونږ ئی په وحی سره درلیږو تاته (ای محمده!)،

**تفسیر:** یعنی په ظاهره کښې ته لوستونکی او لیکونکی نه ئی او نه پخوا له دی نه تا له اهل کتابو سره کوم د اعتبار وړ (لائق) صحبت کړی دی، چه د هغه په وسیله د تیرو پیښو داسی تحقیقی معلومات ولری. او که هغوی سره صحبت وکړی شی نو بیا هم له هغو ځنی نه شی مستفید کیدی ځکه چه هغوی پخپله د اوهامو او خرافاتو په تیارو کښې لویدلی دی. او سرګردانه ګرځی. ځینو د عداوت، او ځینو د زیات محبت له سببه صحیح واقعات مسخ او اړولی دی، نو بیا به په ړندو سترګو د لمر د لیدلو او ښوولو څه هیله (امید) او توقع وشی؟ په دی حالاتو کښې په دغه دواړو «مدنی» او «مکی» سورتونو کښې په هسی صحت او بسط او تفصیل سره د دغو واقعاتو اورول، چه د علم او د کتاب د لویو لویو مدعیانو سترګی د هغو له اوریدلو ځنی ړدی بدی پاتی شی او هیڅ یو له دوی ځنی هیڅ انکار تری ونه کړی شی د هغه د صحت او حقانیت خورا (ډیر) لوی او ښکاره دلیل دی چه د «وحی» په وسیله دا علم تاسی ته درکړی

شوی دی ځکه چه تاسی دا پیښی پخپلو سترګو سره نه دی لیدلی او نه د علم د زده کولو کومه خارجي وسیله له تاسی سره وی.

---

وَمَا كُنتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يُلْقُونَ أَقْلَامَهُمْ أَيُّهُمْ يَكْفُلُ مَرْيَمَ وَمَا كُنتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يَخْتَصِمُونَ ﴿۴۴﴾

---

او نه وی ته (ای محمده ! حاضر) په نزد د دوی (یعنی احبارو د بیت المقدس) کله چه دوی غورځول قلمونه خپل (په اوبو کښی چه په دی قرعی سره معلوم کړی (چه کوم یو له دوی ځنی تربیه وکړی) د مریمی او نه وی ته په نزد د دوی کله چه دوی جګړی سره کولی (په کفالت د مریمی کښی)

---

**تفسیر:** کله چه بی بی مریمه رضی الله تعالیٰ عنها د نذر په دود (دستور) ومنله شوه، نو د مسجد د مجاورانو په منځ کښی سره جګړه شوه چه د دی روزنه (پالنه) د چا په برخه شی؟ تر څو چه خبره قرعی اچولو ته ورسیده، ګردو (تولو) مجاورانو خپل هغه قلمونه چه په هغو سره به ئی توریت لیکه په بهیدونکو اوبو کښی واچول، او دا ئی سره وویل «د هر چا قلم چه د دی بهیدونکو اوبو په سر ودریږی او اوبه ئی یونسی بلکه د اوبو د جریان پر ضد لاړ شی، ښائی همغه د دی بی بی پالونکی وپیژنده شی» په دی کښی قرعه د حضرت زکریا علیه السلام په نامه وختله، او حق خپل حقدار ته ورسیده.

---

إِذْ قَالَتِ الْمَلَائِكَةُ يَا مَرْيَمُ إِنَّ اللَّهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِّنْهُ اسْمُهُ الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ وَجِيهًا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَمِنَ الْمُقَرَّبِينَ ﴿۴۵﴾

---

(یاد کړه ای محمده !) هغه وخت چه وویل ملائکو (یعنی جبریل) ای مریمی، بیشکه الله زیری درکوی تاته په یوی کلمی سره چه له طرفه د ده ده نوم د هغه مسیح عیسیٰ ځوی د مریمی دی په دی حال کښی چه مرتبه والا دی. په دنیا کښی (په طاعت او نبوت) او آخرت کښی (په رفعت او شفاعت) او (د الله) له مقربانو څخه دی.

---

**تفسیر:** حضرت مسیح علیه السلام ته دلته او د قرآن کریم په نورو ځایونو او حدیثونو کښی په

ځو ځو څايونو «كلمة الله» ويل شوى دى ﴿إِنَّمَا الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ رَسُولُ اللَّهِ وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلَىٰ مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِّنْهُ﴾ (٦ جزء د نساء ۱۷۱ آية ۲۳ ركوع) هسى خو د الله تعالىٰ كلمات بيشماره دى، لكه چه د ١٦ جزء د «الكهف» ۱۰۹ آيت ۱۲ ركوع كښې، فرمائى ﴿قُل لَّوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا لِّكَلِمَاتِ رَبِّي لَنَفِدَ الْبَحْرُ قَبْلَ أَن تَنفَدَ كَلِمَاتُ رَبِّي وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهِ مَدَدًا﴾

ليكن مسيح عليه السلام ته بالتخصيص «كلمة الله د الله تعالىٰ حكم» ويل له دى كبله (وجى) دى چه د هغه څيړيدل، بى د پلار د وسيلى او پرته (علاوه) له عامى سلسلى او د انسابو او اسبابو له واسطى، يوازى د الله تعالىٰ په حكم سره شوى دى او هغه فعل چه له عامى سلسلى او عادى اسبابو څخنى خارج وى د هغه نسبت عموماً په مستقيم دول (طريقه) الله تعالىٰ ته كيږى، لكه چه فرمائى ﴿وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ رَمَىٰ﴾ (د ۹ جزء د الانفال ۱۷ آيت ۲ ركوع)

**تنبيه:** د «مسيح» لفظ اصلاً عبرانى دى. چه رومبى له دى نه «ماشيح» يا «مشيحا» ؤ چه د هغه معنى «مبارك» او معرب ئى «مسيح» دى. پاتى شوه دا خبره چه «دجال» ته مسيح ولى ويل كيږى؟ نو دغه لفظ بالاجماع عربى دى چه د هغه د تسمئى وجه به خپله موقع كښى په ځو دولو (طريقو) سره بيان كرى شوى ده. د مسيح عليه السلام بل نوم يا لقب عيسىٰ عليه السلام دى چه په عبرانى «ايشوع» ؤ. او د هغه معرب «عيسىٰ» شو، چه معنى ئى «سيد» دى. دا خبره په خاص دول (طريقه) د توجه وړ (لائق) ده، چه دلته لوى قرآن د «ابن مريم» كلمه حضرت مسيح لره د علم او نوم د جزء په دول (طريقه) استعمال كره څكه چه پخپله ئى بى بى مريمى رضى الله تعالىٰ عنها ته د زيرى وركولو په وخت كښى داسى وويل چه تاته د «كلمة الله» زيرى دركول كيږى چه د هغه نوم به «المسيح عيسىٰ ابن مريم» وى دا توضيح د عيسىٰ عليه السلام د نښان او د پتى د ورښوولو لپاره نه وه بلكه د دى خبرى او تنبيه وركولو له پاره وه چه د پلار نه لرلو په سبب د هغه نسبت يوازى مور ته كيږى، حتىٰ چه د ابن مريم كلمه ئى د دى له پاره د هغه د نامه جزء وګرځاوه چه خلقو ته دا عجيب آيت تل ور په ياد او د بى بى مريمى د لوينى د ښكاره كولو وسيله وى. ممكن ؤ چه بى بى مريمى رضى الله تعالىٰ عنها ته د بشريت په مقتضاء د دى زيرى د اوريدلو څخنى داسى يوه انديښنه پيدا شوى وى چه عام خلق به په دى خبره باندى څرنګه باور وكرى، چه يوازى د ښځى له ګيدى څخنى هلك پيدا كيږى؟ نو خامخا به په ما باندى تهمت او الزام وكړ شي او زما دا هلك به تل په خرابو القابو ياديږى، او خلق به ئى ربړوى (تنګوى)، او زه به خپل ځان له دى تهمت څخنى په څه دول (طريقه) وژغورم (وساتم)؟ او خپله پاكى به څرنګه ښكاره كرم؟ نو څكه ئى وروسته ﴿وَجِيهًا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ﴾ وويل او داد ئى وركر چه الله جل جلاله به ئى نه يوازى په آخرت كښى بلكه په دنيا كښى به ئى هم د لوى عزت او وجاهت او مرتبى خاوند كرى، او د دښمنانو ګرد (تول) الزامات به دروغ كرى، د «وجيه» په لفظ باندى دلته داسى وپوهيږئ! لكه چه د موسىٰ عليه السلام په نسبت ئى فرمايلى دى ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ آذَوْا مُوسَىٰ فَبَرَّأَهُ اللَّهُ مِمَّا قَالُوا ۚ وَكَانَ عِندَ اللَّهِ وَجِيهًا﴾

(۲۲ جزء د احزاب ۲۹ آیت ۹ رکوع) ګواکې هغو کسانو ته (وجیه) وائی،
چه دوی په خصوصی دول (طریقه) له دروغو، طعنو او بدو الزاماتو ځنی د الله تعالیٰ په مهربانی برائت حاصلوی. هغه د باطني خبث څښتنان (خاوندان) چه د حضرت مسیح علیه السلام د نسب په نسبت طعنې کوی یا خدای یا کوم انسان په دروغو سره د هغه پلار بولی یا ئې د واقع په خلاف مصلوب یا مقتول یا ئې د ژوندانه په حالت کښې مړ بولی ـ یا د الوهیت او ابنیت او نورې باطلې عقیدې او د مشرکانو تعلیمات ده ته منسوبوی. نو پاک الله به مسیح علیه السلام له دې ګردو (ټولو) الزاماتو ځنې په دنیا او آخرت کښې په ښکاره دول (طریقه) سره پاک او برې وګرځوی او د ده د وجاهت او نزاهت اظهار به (علیٰ رؤس الاشهاد) وفرمائی، هغه وجاهت چه له ولادت او بعثت څخه وروسته ده لره په دنیا کښې حاصل شو، د هغه پوره تکمیل به وروسته له نزوله کیږی. لکه چه زمونږ د مسلمانانو اجماعی عقیده هم دا ده. بیا په آخرت کښې په خصوصیت سره د ﴿ ءَأَنتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ ٱتَّخِذُونِى ﴾ الآیة ـ سوال او ځواب هم ورسره کوی، او خپل خصوصی انعامات ور په یادوی، او د ګردو (ټولو) اولینو او آخرینو په مخ کښې به د ده د وجاهت او کرامت اظهار کیږی. لکه چه د ۷ جزء د «المائدة» په ۱۱٦ آیت ۱٦ رکوع کښې مذکور دی. او نه یوازې دا چه په دنیا او آخرت کښې به وجاهت لرونکی وی، بلکه د الله تعالیٰ په اخص الخواصو مقربینو کښې به هم شمیرل کیږی.

## وَيُكَلِّمُ ٱلنَّاسَ فِى ٱلْمَهْدِ وَكَهْلًا وَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٤٦﴾

او خبرې به کوی له خلقو سره په مهد (د مور په غیږ یا په ځانګو یا په طفولیت) کښې او په کهولت (پوره عمر) کښې او له صالحانو څخه به وی.

**تفسیر:** یعنی خورا (ډیر) ښائسته او په اعلیٰ درجه به نیک وی، اول به د مور په غیږ کښې، او بیا به په لوی والی کښې عجیبې او غریبې خبرې کوی، په دی الفاظو سره په حقیقت کښې د بی بی مریمې رضی الله تعالیٰ عنها پوره تسکین وکړ شو. له پخوانیو زیرو ځنی ممکن ؤ چه هسې خیال وکړی چه دغه وجاهت خو به یو وخت ورحاصلیږی مګر د طعن او د پیغور سلسله د ولادت څخه وروسته سمدستی شروع کیږی، نو په دی وخت کښې به په څه دول (طریقه) سره ځان بری او پاک کړم؟ د دی خبری ځواب ئې ورکړ، چه مه ویریږه! تاته به د ژبې خوځولو هیڅ ضرورت نه پاتې کیږی بلکه ته دا ورښکاره کړه چه «زه نن روژه یم. او له خبرو ځنی می خوله تړلې ده. زما هلک پخپله ژبه تاسی ته ځواب درکوی.» لکه چه دا مطلب د (مریم) په سورت کښې په پوره تفصیل سره راځی. ځینی محرفین وائی چه د ﴿ وَيُكَلِّمُ ٱلنَّاسَ فِى ٱلْمَهْدِ وَكَهْلًا ﴾ الآیة ـ څخه مراد بی بی مریم رضی الله تعالیٰ عنها ته داسی تسلی ورکول مقصد دی، چه ستا هلک به ګونګی نه وی او د نورو هلکانو غوندی به له هلکتوبه تر زړتوبه پوری خبری

کوی. لیکن عجیبه خبره دا ده چه په محشر کښې به هم خلق داسې وائی **«یا عیسی انت رسول الله وکلمة القاها الیٰ مریم وروح منه و کلمت الناس فی المهد صبیاً»** او بخپله الله تعالیٰ به هم د قیامت په ورځ کښې فرمائی ﴿ اذْكُرْ نِعْمَتِي عَلَيْكَ وَعَلَىٰ وَالِدَتِكَ إِذْ أَيَّدتُّكَ بِرُوحِ الْقُدُسِ تُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا ﴾ آیا هلته به هم د دې خاص نعمت او علامې له یادولو ځنې هم دا مطلب وی چه بی بی مریمه رضی الله تعالیٰ عنها مطمئنه شی چه زما دا هلک ګونګی نه دی، او د نورو هلکانو په شان خبرې کولی شی. اعاذنا الله من الغواية والضلالة!

---

قَالَتْ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي وَلَدٌ وَلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ ۖ

---

وویل (مریمې) «ای ربه زما څرنګه به پیدا شي ما لره زوی؟ حال دا چه مس کړی نه یم هیڅ بشر (نارینه ـ نه په نکاح نه په سفاح (بدکاری) سره)»،

---

**تفسیر:** معلومه شوه چه بی‌بی مریمه رضی الله تعالیٰ عنها له دې زیری ځنې داسې وپوهیده چه هلک په هم دې موجوده حالت کښې پیدا کیدونکی دی. که نه د تعجب هیڅ یوه موقع نه وه.

---

قَالَ كَذَٰلِكِ اللَّهُ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ ۚ إِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴿٤٧﴾

---

وویل (جبریل) هم داسې (بې د نارینه له مس څخه) الله پیدا کوی هغه چه اراده وفرمائی (د پیدا کولو ئې) هر کله چه اراده (حکم) وکړی (الله) د یوه کار پس بیشکه هم دا خبره ده چه ووائی هغه شي ته چه (پیدا) شه! پس (پیدا) شی،

---

**تفسیر:** یعنی په هم دې ډول (طریقه) بې د بشر د «مس» او لاس لګیدلو ځنې پیدا کیږی، د ده د عادت له مخالفت ځنې تعجب مه کوه! الله جل جلاله د هر شي په هر رنګ چه اراده وکړی هغه کیدونکی دی. د ده د قدرت تحدید امکان نه لری، د هر کار د کولو اراده چه وکړی، همغه کیږی الله تعالیٰ جل جلاله و اعظم شانه نه مادی ته محتاج دی، او نه اسبابو ته ضرورت لری.

---

وَيُعَلِّمُهُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرَاةَ وَالْإِنجِيلَ ﴿٤٨﴾

او ورزده کوی هغه ته (الله) کتاب (لیک) او حکمت (د شرعی احکامو علم، ژوری خبری) او توریت او انجیل.

**تفسیر:** یعنی دیر ښه لیکل به ورزده کوی، یا به د ګردو (تولو) کتابونو هدایت او د «توریت» او «انجیل» علم ده ته په خصوصی دول (طریقه) سره ورښئی ـ او خورا (دیر) زیاتی د حکمت ژوری خبری وریادوی. زما په خیال ممکن دی چه له کتاب او حکمت څخه قرآن او سنت مراد وی، ځکه چه مسیح علیه السلام به د نزول څخه وروسته زمونږ د پاک قرآن او د رسول الله مبارک له سنتو سره سم کار کوی او حکم به صادروی.، او دا هم په هغه صورت کښی امکان لری، چه ده ته د دغو شیانو علم او پوه ورکره شی. والله اعلم.

وَرَسُولًا إِلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ أَنِّي قَدۡ جِئۡتُكُم بِـَٔايَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ

او (لیږو ئی) رسول طرف د بنی اسرآئیلو (اولادی د یعقوب) ته. (چه وائی دوی ته) بیشکه زه په تحقیق راغلی یم تاسی ته په لویه علامه (د خپل صدق) له ربه ستاسی څخه.

**تفسیر:** یعنی له مبعوث کیدلو څخه وروسته خپل قوم بنی اسرآئیلو ته به هسی وائی.

أَنِّيٓ أَخۡلُقُ لَكُم مِّنَ ٱلطِّينِ كَهَيۡـَٔةِ ٱلطَّيۡرِ فَأَنفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيۡرَۢا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۖ

بیشکه زه جوړوم تاسی ته (ای بنی اسرآئیلو)! له ختو څخنی په شان د شکل د مرغه نو پوکوم په دی (شکل) کښی پس کیږی (هغه شکل) مرغه (الوتونکی) په اذن (حکم) د الله سره.

**تفسیر:** یوازی د شکل او صورت جوړولو څخه په «خلق» سره تعبیر کول، تش ظاهری حیثیت دی. لکه چه په صحیح حدیث کښی معمولی تصویر کښل په «خلق» سره تعبیر شوی دی **«احیوا ما خلقتم»** یا په الله باندی د «احسن الخالقین» اطلاق دا راوښوول چه دا لفظ یوازی د ظاهری صورت په لحاظ د ماسوا الله په نسبت ویل کیدی شی که څه هم د تخلیق په لحاظ له الله تعالیٰ څخنی پرته (علاوه) بل هیڅوک ته خالق نشی ویل کیدی، ښائی چه له هم دی کبله (وجی) ئی

داسې نه دي فرمايلي **«اني اخلق لكم من الطين طيرا** زه له ختو څخنې مرغه جوړوم.» او داسې ئې وفرمايل چه «زه له ختو څخه د مرغه د شکل په شان جوړوم، او په هغه کښې پوکوم، نو بيا هغه خته د الله تعالیٰ په حکم سره الوزي.» په هر حال دا معجزه ئې دوی ته وروښوده. او وائي چه په هلکتوب کښې له حضرت عيسیٰ عليه السلام څخه د «ارهاص» په دول (طريقه) دا خارق العاده افعال د دی له پاره صادر شوی وو چه تهمت کوونکو ته د الله تعالیٰ د قدرت يوه وړوکی نمونه وروښئي، او د دوی فکر دی خوا ته را واړوي کله چه پاک الله زما په نفخی (پوکولو) سره د ختو په بې سا صورت کښې روح (سا) اچوي. هم دا رنګه که پاک الله بې د بشر د مس کولو څخه يوازې د «روح القدس» په نفخی (پوکولو) سره له يوې غوره شوې ښځې څخنې عيسوی روح پيدا کړی، نو دا به څه د تعجب خبره وي؟ بلکه څرنګه چه حضرت عيسیٰ عليه السلام د جبرائيلي نفخې (پوکولو) څخنې پيدا شوی دی، نو دا «مسيحی» نفخه دی د دی راز (قسم) ولادت يو اثر وګڼل شي د «المائدة» د سورت په آخر کښې د مسيح عليه السلام په دغو معجزاتو او خوارقو باندې په بل دول (طريقه) سره خبرې کيږي هغه دی هلته وکتلی شي!

لنده ئې داسې شوه چه په مسيح عليه السلام باندې د ملکي او روحي کمالاتو غلبه وه ـ له دی څخنې داسې آثار څرګنديدل چه د دغو کمالاتو سره مناسب وو ليکن که انسان ته په پرښته باندې فضيلت حاصل دی، او که ابوالبشر عليه السلام د ملائکو مسجود ګرځولی شوی دی، نو هيڅ شک نشته چه په چا کښې چه د بشريت هغه ګرد (تول) کمالات (روحانی او جسمانی کمالات) په اعلیٰ درجه سره وي نو هغه هرو مرو (خامخا) په مسيح عليه السلام باندې فضيلت لري چه هغه د برکتونو خاوند حضرت محمد رسول الله صلی الله عليه وعلیٰ آله واصحابه وسلم دی.

---

**وَأُبْرِئُ الْأَكْمَهَ وَالْأَبْرَصَ وَأُحْيِ الْمَوْتَىٰ بِإِذْنِ اللَّهِ**

---

او روغوم مورزادی (پيدائشی) ړوند او پيس (برګ) او ژوندی کوم مړی په اذن (حکم) د الله سره،

---

**تفسير:** په هغه زمانه (پيری) کښې د طبيبانو او حکيمانو ډيره ترقی او زور ؤ ـ نو مسيح عليه السلام ته داسې معجزې مرحمت شوی چه د خلقو په منځ کښې پر ګردو (تولو) لويو طبيبانو باندې د ده تفوق او لويوالی ثبت کړی، او ګرد (تول) طبيبان د هغو له معالجو څخه عاجزوی. بلا شبهه د مړی ژوندی کول، د الله تعالیٰ له صفاتو څخنې دی، لکه چه د «باذن الله» له قيده صافه ښکاره ده، مګر د دی له امله (وجې) چه مسيح عليه السلام د هغه وسيله ګرځيدلی دی، نو ئې توسعاً په خپل لوری نسبت کوی. د ځينو خلقو دا وينا چه پاک الله په لوی قرآن کښې يا پاک رسول الله پخپلو احاديثو کښې اعلان فرمايلی دی، چه له ازله تر ابده پورې هيڅوک مړی نه شي ژوندی کولی. يوه نوی او عجيبه دعوی ده، چه هيڅ ثبوت نه لري. که الله په قرآن کريم

کښي ﴿ فَيُمْسِكُ الَّتِي قَضَىٰ عَلَيْهَا الْمَوْتَ ﴾ فرمايلي دي، دا ئي راښوولي دي چه د مړ کيدونکي روح الله تعالیٰ ستنوی (واپس کوی)، او د اوده کيدونکي روح بيرته ور پريږدی. نو دا ئي کله فرمايلي دی چه له بيرته ستنولو (واپس کولو) څخه د هغه د بيا خوشي کولو واک (قبضه) او اختيار نه لری؟

**تنبيه:** «معجزه» هغه ده چه د پاک الله د عمومي عادت په خلاف د نبوت د مدعي له خوا د خپل تصديق له پاره ښکاره شي، نو که داسي نصوص واخيستي شي، چه د کوم شي په نسبت د الله تعالیٰ عمومي عادت په کښي بيان شوی وی، او بيا تری داسي استدلال وکړی، چه په دی سره د معجزاتو نفي کيږی، بيخي له معجزاتو څخه انکار، او د خپل غباوت او حماقت اظهار دی. که «معجزه» له عمومي قانون او عادت سره برابره راشي، نو هغي ته به څوک «معجزه» وائي؟ د مسيح عليه السلام بی پلاره پيدا کيدل د ابرص، ابره او اکمه روغول ـ د مړی ژوندی کول ـ او د نورو معجزاتو ورښوول، د مسلمانانو په ګردو (تولو) اخلافو او اسلافو کښي يوه منلي شوی خبره ده. د اصحابانو رضي الله تعالیٰ عنهم او تابعينو (رحمة الله عليهم) په اقوالو کښي يوه خبره هم داسي نشته چه د مسيح عليه السلام د دی معجزاتو په نسبت څه تردد پکښي ښکاره شوی وی. هغه دعوی چه نن ئي ملحدان کوی چه «د دی خوارقو منل له قرآنی محکماتو څخني مخالف دی». ګواکي دوی دغه شيان داسي محکمات راښکاره وی، چه د هغو د صحيح مطلب په پوهيدلو کښي ګرد (تول) اسلامي ملت عاجز پاتی دی. آيا له ګردو (تولو) محکماتو څخني مخ اړول او په متشابهاتو پسي لويدل، د ﴿ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ ﴾ مصداق نه دی؟ له اوسنيو ملحدانو څخني پرته (علاوه) بل هيڅوک موفق نشو چه «متشابهات» د «محکماتو» په لوری واړوی (العياذ بالله!) حق او رښتيا خو دا ده هغه آيتونه چه د هغه ظاهری معنی ګرد (تول) اسلامي امت د اصحابو له زمانی څخني تر اوسه پوری منلي ده «محکمات» دی. او د هغو ماتول او ګډول او په تشو استعاراتو او تمثيلاتو باندی ئي اړول ـ او د معجزاتو پر نفي باندی، د عمومي عادت دليل راوړل، هم دا د زائغينو کار دی چه له هغه څخني د ځان ساتني هدايت پخپله رسول الله مبارک فرمايلي دی.

---

## وَأُنَبِّئُكُم بِمَا تَأْكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ فِي بُيُوتِكُمْ

---

او خبروم زه تاسي په هغه شي چه تاسي (ئي) خورئ! او (خبروم زه تاسي) په هغه شي چه تاسي (ئي) ساتئ په کورونو خپلو کښي.

---

**تفسير:** وروسته له دی نه په څينو غيبي شيانو باندی عام له دی چه د ماضي وی، که د مستقبل تاسي خبروم. له عملي معجزی څخه وروسته د يوی علمي معجزی ذکر فرمائي.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٤٩﴾ وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ
التَّوْرَاةِ وَلِأُحِلَّ لَكُم بَعْضَ الَّذِي حُرِّمَ عَلَيْكُمْ

بیشکه په دی (معجزو) کښی هرومرو (خامخا) (پوره) نښانه ده تاسی ته که یئ تاسی مؤمنان (یقین لرونکی زما په نبوت) حال دا چه مصدق یم د هغه (کتاب) چه پخوا له ما (نازل شوی) دی چه تورات دی او (بل راغلی یم تاسی ته) له پاره د دی چه حلال کړم له پاره ستاسی ځینی له هغو شیانو چه حرام کړی شوی وو په تاسی باندی

**تفسیر:** یعنی د «تورات» تصدیق کوم چه د پاک الله کتاب دی. او د هغه عمومی اصول او احکام پخپل حال باندی قایم پاتی دی، او د الله تعالیٰ په حکم د دی زمانی په تناسب سره ځه جزئی او فرعی تغیرات پکښی کیږی. مثلاً د هغه ځینی احکام چه ډیر سخت او درانه وو لری کیږی. (لکه چه په موسوی شریعت کښی د خالی د ورځی تعظیم ـ د ماهی او د اوښ د غوښی او د وازدی تحریم چه د ۸ جزء د الانعام په (۱٤۷) آیت (۱۸) رکوع کښی راغلی هغه ورته حلال شول نو واک (اختیار) لرئ چه د هغه نوم نسخ پردئ! او که تکمیل.

وَجِئْتُكُم بِآيَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿٥٠﴾

او راغلی یم تاسی ته په (هر قسم) معجزی له (طرفه د) رب ستاسی. نو وویریږئ تاسی له الله او ومنئ (وینا) زما (د الله په توحید او اطاعت کښی).

**تفسیر:** یعنی کله چه تاسی زما د صداقت دلائل ولیدل، نو اوس له الله جل جلاله ځخه وویریږئ! او د هغه بندگی وکړئ! او زما خبری ومنئ!

إِنَّ اللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٥١﴾

بیشکه چه الله رب زما دی او رب ستاسی دی نو بندگی کوئ تاسی د ده!، هم دا لاره ده سمه صافه (رسوونکی مقصود ته).

**تفسیر:** یعنی له ګردو (تولو) خبرو څخنی یوه خبره، او له ګردو (تولو) اصولو یو اصل هم دا دی هغه دا چه پاک الله ومنیٔ! چه زما او ستاسی یو شان رب او پالونکی دی (او د پلار او زوی تعلقات او نور) پکښی مه پیدا کویٔ! او د هغه بندګی وکړیٔ! د الهیٰ رضا موندلو سمه لاره هم دا توحید، تقویٰ او د رسول اطاعت دی. ښائی چه تاسی پری لاړ شیٔ! چه هغه ته په ښه ډول (طریقه) سره ورسیږیٔ!.

فَلَمَّآ اَحَسَّ عِيْسٰى مِنْهُمُ الْكُفْرَ

نو کله چه معلوم کړ عیسیٰ (په محسوس ډول (طریقه) له بنی اسرائیلو څخه کفر (چه د مسیح د قتل اراده ئی وکړه !)

**تفسیر:** یعنی مسیح علیه السلام وپوهید چه دغه یهودان زما دین نه منی، بلکه زما په دښمنی او ضرر رسولو پسی لویدلی دی.

قَالَ مَنْ اَنْصَارِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ۭ

وویل (عیسیٰ علیه السلام چه) څوک دی مددګاران زما په طرف (لاره) د الله کښی ؟،

**تفسیر:** یعنی زما مله او ملګری شیٔ! او د پاک الله د دین انتشار او تعمیم او ترویج کښی له ما سره مدد او مرسته (تعاون) وکړیٔ! او زما له انصارو څخنی شیٔ!

قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ نَحْنُ اَنْصَارُ اللّٰهِ ۚ

وویل حواریونو مونږ یو مددګاران د (دین د) الله!

**تفسیر:** له الله تعالیٰ سره مدد کول دا دی چه د هغه دین ته راشیٔ او د هغه دین او آئین ومنیٔ او د انبیاؤ مرسته (ملګرتیا) او مدد وکړیٔ لکه چه د مدینی منوری انصارو زمونږ د محمد رسول الله صلی الله علیه وآله وصحبه وسلم او د حق دین په منلو کښی خپلی مرستی ښکاره کری.

آمَنَّا بِاللَّهِ ۚ وَاشْهَدْ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ ﴿٥٢﴾

ایمان مو راوړی دی په الله او شاهد شه ته (ای عیسیٰ !) په دی چه بیشکه مونږ مسلمانان یو

**تفسیر:** «حواریون» کومو کسانو ته ویل کیږی؟ او دا لقب د څه دپاره دوی ته ورکړی شوی دی؟ د دی په نسبت د عالمانو په منځ کښی ډیری خبری شوی دی، چه مشهوره ئی دا ده چه ړومبی هغه دوه تنه چه د حضرت عیسیٰ علیه السلام تابعان شول، دوبیان وو، او د کالیو (جامو) وینځلو له امله (وجی) به خلقو دوی ته «حواریون» ویل. عیسیٰ علیه السلام دوی ته وویل چه کالی (کپړی) وینځل پریږدئ! راشئ! چه زه تاسی ته د زړه وینځل دروښیم! دوی له ده سره ملګری شول وروسته له دی د ده د نورو ملګرو لقب هم داسی شو.

رَبَّنَا آمَنَّا بِمَا أَنْزَلْتَ وَاتَّبَعْنَا الرَّسُولَ فَاكْتُبْنَا مَعَ الشَّاهِدِينَ ﴿٥٣﴾

ای ربه زمونږ ایمان راوړی دی مونږ په هغه کتاب (انجیل) چه نازل کړی دی تا او پیروی مو کړی ده د رسول (ستا عیسیٰ علیه السلام) نو ولیکه مونږ سره له شاهدانو (په وحدانیت او رسالت)

**تفسیر:** وروسته له دی نه چه د رسول په مخ کښی ئی اقرار وکړ د الله جل جلاله په حضور کښی ئی هم داسی اقرار وکړ چه «مونږ پر انجیل باندی ایمان راوړی دی. او ستا د رسول متابعت مو هم کړی دی، نو ته پخپل فضل او توفیق او کرم سره زمونږ نومونه د منونکو په فهرست کښی ولیکه! او زمونږ د ایمانداری تصدیق وفرمایه، او هسی توفیق راپه برخه کړه چه تل په ایمان باندی تینګ اوسو. او زمونږ د بیا کافر کیدلو احتمال له سره پاتی نشی.»

وَمَكَرُوا وَمَكَرَ اللَّهُ ۖ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ ﴿٥٤﴾

او مکر وکړ کفارو (په عیسیٰ باندی) او مکر وکړ الله (له دوی سره چه سزا ئی دوی ته ورکړه) او الله خیر (بهتر) د ماکرینو دی (چه مکاران په سزا رسوی).

**تفسیر:** «مکر» لطیف او خفیه تدبیر ته وائی. که دا پټ تدبیر د ښو کارو له پاره وی، ښه دی، او که د بدو کارو له پاره وی، بد دی. نو ځکه په ﴿ وَلَا يَحِيقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ ﴾ کښی ئی له

«مکر» سره «سيئ» قيد زيات کړی دی، او دلته الله جل جلاله ته «خير الماكرين» ويلی شوی دی، مطلب دا دی يهودانو د عيسیٰ عليه السلام په مخالفت کښې راز راز (قسم قسم) پلمی (منصوبی) او سازشونه او د پټو تدبيرونو جوړول شروع کړل، تر دی چه د باچا غوږونه ئی د مسيح عليه السلام له مخالفت نه ډک کړل، او داسی ئی وويل چه «دا سړی معاذ الله ملحد دی، او غواړی چه «تورات» بدل کړی، او ګرد (تول) خلق د يهودانو له دين څخه واړوی.» باچا د مسيح عليه السلام د نيولو امر صادر کړ. هلته داسی خبری کيدی، او دلته د الله تعالیٰ لطيف او خفيه تدبير د هغوی په ماتولو کښې خپل کار کاوه. چه د هغه ذکر وروسته راځی. بيشکه د الله تعالیٰ تدبير له ګردو (تولو) څخه داسی ښه ـ کلک ـ بهتر او مضبوط دی، چه هيڅوک هغه تدبير نشی ماتولی.

---

إِذْ قَالَ اللَّهُ يَٰعِيسَىٰٓ إِنِّى مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَىَّ وَمُطَهِّرُكَ مِنَ الَّذِينَ
كَفَرُوا۟ وَجَاعِلُ الَّذِينَ اتَّبَعُوكَ فَوْقَ الَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَٰمَةِ ۖ
ثُمَّ إِلَىَّ مَرْجِعُكُمْ فَأَحْكُمُ بَيْنَكُمْ فِيمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿٥٥﴾ فَأَمَّا الَّذِينَ
كَفَرُوا۟ فَأُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا فِى الدُّنْيَا وَالْءَاخِرَةِ ۖ وَمَا لَهُم مِّن
نَّٰصِرِينَ ﴿٥٦﴾ وَأَمَّا الَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ الصَّٰلِحَٰتِ فَيُوَفِّيهِمْ أُجُورَهُمْ ۗ
وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّٰلِمِينَ ﴿٥٧﴾

---

(ياد کړه ای محمده!) هغه وخت چه وويل الله ای عيسیٰ بيشکه زه اخيستونکی يم ستا (له ځمکی) او پورته بيوونکی يم ستا طرف زما ته او پاکوونکی (لری کوونکی) يم ستا له هغو کسانو څخه چه کافران (منکران) شوی دی او ګرځوونکی يم د هغو کسانو چه متابعت ئی کړی دی ستا د پاسه د هغو کسانو چه کافران (منکران) شوی دی تر ورځی د قيامته پوری بيا (خاص) طرف زما ته دی راتګ ستاسی او زه به حکم وکړم په منځ ستاسی کښې په هغه شی کښې چه وئ تاسی چه په هغه کښې اختلاف به مو کاوه نو هر څه هغه کسان چه کافران شوی دی نو زه به په عذاب کړم دوی په عذاب سخت سره په دنيا او په آخرت کښې او نه به وی دوی ته هيڅ مدد

کوونکی (د عذاب په دفع کښې). او هر څه هغه کسان چه ایمان ئې راوړی دی او کړی ئې دی ښه (عملونه) نو پوره به ورکړی (الله) دوی ته اجرونه (د عملونو) د دوی، او الله نه خوښوی ظالمان (یعنی دوی په سزا رسوی).

**تفسیر:** باچا پر خلقو امر وکړ چه مسیح علیه السلام ونیسئ! او پر دار ئې وخیژوئ! او ورته داسې سختې سزاوی ورکړئ! چه د هغو له لیدلو ځنې گرد (تول) خلق د ده له متابعت ځنې وگرځی لکه چه ابن کثیر «رحمة الله علیه» لیکی «**فبعث فی طلبه من یاخذه ویصلبه وینکل به**» پاک الله په مقابل کښې مسیح علیه السلام ته اطمینان ورکړ چه زه به د دغو شقیانو دا گردی (تولی) ارادی او پلمی (منصوبی) له خاورو سره برابری کړم. دوی غواړی چه تا ونیسی او ودی وژنی او نه دی پرېږدی چه هغه مقصد پای (آخر) ته ورسوی چه ستا له پیدا کولو او بعثت ځنې مقصود دی او په دی کار سره د الله تعالیٰ د لوی نعمت قدر نه کوی. ولی زه به له دوی ځنې دا نعمت بیرته واخلم او ستا د هغه مقدر عمر او عظیم مقصد چه ستا له دغه ژوندون سره تعلق لری، خامخا پوره کوونکی یم او تا به داسې صحیح، سالم او روغ رمټ بوځم چه دوی به ستا یوه ویښته ته هم څه زیان ونشی رسولی او د دی په ځای چه دوی تا له منځه وباسی الله تعالیٰ به تا خپلی پناه ته بوځی. دوی غواړی چه تا پر دار باندی وخیژوی. ولی پاک الله به تا آسمان ته وخیژوی. د دوی داسې اراده ده چه په رسوا کوونکو او عبرت لرونکو سزاگانو سره خلق ستا له متابعته واړوی ـ خو پاک الله د هغوی دغه ناپاک لاسونه تر تا پوری نه رسوی. بلکه د دی ناولی او ناپاکی جرگی له منځه به تا پاک او صاف جګ (اوچت) کړی او د دی په ځای چه ستا بی پتی او بی عزتی وشی، یا خلق ودار شی او ستا له متابعته غاړه وغړوی، ستا د تابعینو او نوم اخیستونکو قرب او منزلت به تر قیامت پوری پر منکرانو باندی غالب او قاهر وساتم تر هغه پوری به چه ستا انکار کوونکی یهودان او اقرار کوونکی مسلمانان او نصرانیان په دنیا کښې اوسیږی، زما په حکم به تل دغه ستا اقرار کوونکی پر منکرانو باندی فائق او غالب وی بیا به داسې وخت راشی چه ستا مخالفین او موافقین او نور گرد (تول) خلق به ما ته بیرته راځی نو هلته به زه ستاسی دا گردی (تولی) جګړی یو په یو فیصله کړم او گرد (تول) اختلافونه به له منځه ورک شی. دا فیصله به کله کیږی؟ دا فیصله به لکه چه د ﴿ فَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا فَأُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا فِي الدُّنْيَا ﴾ الآیة ـ له تفصیل څخه معلومیږی چه له آخرته څخه به پخوا په هم دی دنیا کښې د هغی نمونه شروع کیږی. یعنی په هغه وخت کښې به گرد (تول) کافران په سختو عذابونو کښې اخته کیږی، او هیڅ یو قوت او طاقت به د دوی چیغو او مرستی (مدد) ته ونشی رسیدی. په مقابل کښې به هغو کسانو ته چه ایمان لرونکی دی، په دنیا او آخرت کښې پوره پوره اجرونه ورکول کیږی، او د بی انصافو ظالمانو بیخ به وویستل شی. د مرحومه امت دا اجماعی عقیده ده کله چه یهودانو خپل ناپاک تدبیرونه سره پاخه کړل، نو حق تعالیٰ حضرت مسیح علیه السلام ژوندی آسمان ته وخیژاوه. زمونږ د پاک رسول صلی الله علیه

وسلم د متواترو احاديثو په موجب قيامت ته نژدې لکه چه دنيا له کفر، او ضلالت، دجاليت او شيطنت څخني ډکه شي نو حق سبحانه وتعالىٰ به د بنى اسرآئيلو وروستنى پيغمبر يعنى حضرت عيسىٰ عليه السلام د على الاطلاق خاتم المرسلين يعنى حضرت محمد رسول الله سيدالاولين والاخرين صلى الله عليه وسلم د يوه ارشد او اصلح خليفه په حيث راوليږي، او دنيا ته به ښكاره کړي چه د پخوانيو رسولانو تعلقات د خاتم الانبياء محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم له دربار سره څه ډول (طريقه) دي؟ مسيح عليه السلام به د (دجال) قاتل شي او د هغه اتباع يهودان به ګرد (تول) سره تولوي او وژني به ئې او هيڅ يو يهودي به ځان ترى نشى ژغورلى (ساتلى) تر دې چه کاڼي او بوټي به هم نارې وهي چه زمونږ تر شا يهودان ولاړ دي - راشئ! او وئې وژنئ مسيح عليه السلام به صليب ماتوي او د نصرانيانو باطل عقائد به اصلاح کوي. او د ګردې (تولى) دنيا خلق به د ايمان په سمه صافه لاره باندې سموي په هغه وخت کښې به ګردې (تولى) جګړې سره فيصله کيږي او تول مذهبي اختلافات به له څرمي (سيلمي) ورک شي. او يوازې د يوه خداى حق دين «اسلام» به پاتې شي، د دې وخت په نسبت الله جل جلاله فرمائى ﴿ وَإِن مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِ قَبْلَ مَوْتِهِ ﴾ (٦ جزء د النساء ١٥٩ آيه ٢٢ رکوع) چه د هغه پوره تقرير او د مسيح عليه السلام د رفعې کيفيت به د «النساء» په سورت کښې راشي. په هر حال زما په نزد ﴿ ثُمَّ إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ ﴾ الآية - يوازې له آخرت سره تعلق نه لرى، بلکه له دنيا او آخرت دواړو سره تعلق لرى لکه چه د وروستنى تفصيل په موقع کښې د ﴿ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ﴾ لفظ په ښکاره ډول (طريقه) سره شهادت راکوي او دا د دې قرينه ده چه د ﴿ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ ﴾ معنى د قيامت قرب دى لکه چه په صحيحو احاديثو کښې تصريح شوې ده چه له قيامت څخه پخوا داسې يو مبارک وخت هرومرو (خامخا) راتلونکى دى چه ګرد (تول) اختلافات به له منځه ورک او يو صحيح دين به پاتې شي **(ولله الحمد اولا وآخراً)** د دې آيت په نسبت ښائى څو خبرې په زړه ولرلى شي د «توفى» د لفظ په نسبت د «ابو البقاء» په كلياتو كښې ئې ليكلى دى چه **التوفي الاماتة وقبض الروح وعليه استعمال العامة. او الاستيفاء واخذالحق و عليه استعمال البلغاء** د عوامو په نزد د «توفى» معنى مړ کول دى او د سا وښکلو په مواردو کښې استعماليږي ليکن د بلغاؤ په نزد د «توفى» اطلاق پر موت هم له دې کبله (وجې) کيږي چه په موت کښې خاص عضو نه بلکه د الله تعالىٰ له لورى پوره روح اخيستل کيږي اوس ئې داسې فرض کړئ که الله تعالىٰ د چا سا (روح) د هغه د وجود سره يو ځاى واخلى نو هغه ته په طريق اولى سره «توفى» ويل کيږي. هغه اهل اللغت چه د «توفى» معنى د روح قبض ليکى دوى داسې نه وائى چه «قبض الروح مع البدن» ته «توفى» نه وائى او نه ئې داسې کومه ضابطه بيان کړې ده کله چه د «توفى» فاعل الله او مفعول ئې ذى روح وى نو پرته (علاوه) له موت څخنې بله معنى نه ترې اخيسته کيږي هو! څرنګه چه د روح د قبض وقوع عموماً له بدن څخنې په جلا (جدا) کيدلو سره کيږي نو ځکه د کثرت او عادت په ملاحظه زياتره د موت لفظ ورسره ليکى که نه د دې لفظ لغوى مدلول «قبض الروح مع البدن» لکه چه په

﴿ اَللّٰهُ يَتَوَفَّى الْاَنْفُسَ حِيْنَ مَوْتِهَا وَالَّتِيْ لَمْ تَمُتْ فِيْ مَنَامِهَا ﴾ ۲٤ جزء د الزمر ٤۲ آیت ٥ رکوع کښې د توفي النفس «قبض الروح» دوه صورتونه ښوولی شوی دی یو مرګ او بل خوب په دی تقسیم کښې هم د (توفی) مفعول «النفس» واقع شوی دی. او د «حین موتها» قید ورسره زیات شوی دی او دا ئې راښوولی دی چه «توفی» او «موت» دوه سره بیل بیل شیان دی اصلي خبره دا ده چه د روح قبض مختلفي درجې لری یوه درجه ئې د مرګ په وخت کښې او بله درجه ئې د خوب په وخت کښې لیدله کیږی له قرآن کریم څخه دا معلومیږی چه پر دی دواړو باندی د «توفی» د لفظ اطلاق کیږی او په دی کښې د موت څه تخصیص نشته. ﴿ يَتَوَفّٰكُمْ بِالَّيْلِ وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُمْ بِالنَّهَارِ ﴾ (۷ جزء د الانعام ٦۰ آیت ۷ رکوع) اوس څرنګه چه خدای جل جلاله په دی دواړو آیتونو کښې په خوب باندی د «توفی» اطلاق کړی دی حال دا چه په خوب کښې د روح قبض پوره هم نه وی. هم داسې که د (آل عمران) او د (المائدة) په دوو آیتونو کښې د «توفی» د لفظ اطلاق پر «قبض الروح مع البدن» باندی کړی شوی وی نو کومه استحاله به لازمیږی؟ بالخصوص کله چه دا هم ولیدل شی چه د مرګ، او خوب په نسبت د (توفی) د لفظ استعمال هم دی پاک قرآن شروع کړی دی. پخوانی جهال عموماً له دی حقیقت څخنی خبر نه وو چه آیا په خوب کښې یا په مرګ کښې الله تعالیٰ له چا څخنی کوم شی اخلی که نه؟ نو ځکه د «توفی» د لفظ استعمال پر موت او خوب باندی د دوی په منځ کښې شائع نه ؤ اول ځلی پاک الله د موت او خوب په حقیقت باندی د رڼا اچولو له امله (وحی) دا لفظ استعمال کړ نو هم ده لره دا حق هم شته چه د مرګ او خوب په شان «د اخذ الروح مع البدن» په نادره موقع کښې هم هم دا (توفی) استعمال کړی. په هر حال په دی آیت کښې د جمهورو په نزد له (توفی) څخنی موت نه دی مراد او له (ابن عباس «رض») څخنی دیر صحیح روایت هم دا دی چه مسیح علیه السلام ژوندی آسمان ته خیژولی شوی دی. کما فی «روح المعانی» وغیره. له ژوندی پورته کولو یا د دوهم ځلی راښکته کیدلو څخنی انکار کول له هیڅ سلف او خلف څخه نه دی منقول شوی بلکه په (تلخیص العبیر) کښې (حافظ ابن حجر رحمة الله علیه) په دغه باره کښې د اجماع نقل کوی او (ابن کثیر رحمة الله علیه) او نورو د نزول حدیثونو ته متواتر ویلی دی، او په «اکمال اکمال المعلم» کښې له امام (مالک رحمة الله علیه) څخنی دا مسئله صریحاً نقل شوی ده. بیا په هغو معجزو کښې چه مسیح علیه السلام ښکاره کړی دی برسیره پر نورو حکمتونو د ده له «رفع السمآء» سره یو خاص مناسبت هم مونده کیږی. مسیح علیه السلام له اوله داسې تنبیه فرمایلې وه کله چه د ختو یوه خیره زما له پوکولو څخنی په اذن د الله سره الوتونکی جوړیږی، او مخ په پورته الوځی، نو آیا هغه بشر ته چه پر ده باندی الله تعالیٰ د «روح الله» د لفظ اطلاق فرمایلی دی او د «روح القدس» له پوکی (نفخی) څخنی پیدا شوی دی، دا امر ممکن نه دی چه د الله تعالیٰ په حکم سره والوځی او ځان آسمان ته ورسوی؟ هغه څوک چه د هغه له لاس وهلو او څو الفاظو له ویلو څخنی د الله تعالیٰ په حکم سره ړانده او ابرصان (برګ) او جذامان او نور جوړیږی او مړی ژوندی کیږی که دا شخص پخپله د دی د کون او فساد له عالم

ځنې خپل ځان جلا (جدا) کوی او تر زرهاؤ کلونو پورې لکه پرښتې په آسمان کښې ژوندی، روغ رمټ اوسیږی نو په دې کښې څه استبعاد دی؟ **قال قتادة رحمة الله علیه فطار مع الملائکة فهو معهم حول العرش وصار انسیا ملکیا سماویا ارضیا** «بغوی» په دی موضوع باندې ځان ته کتابونه او رسالې خورې شوی دی. مګر زه د علماؤ توجه د علامه سید محمد انور شاه کشمیری طال بقائه د «عقیدة الاسلام» د رسالې لوستلو ته راګرځوم چه د هغه د علمې لعلونو او جواهرو ځنې مستفید شی! زما په نظر بله داسې کومه جامعه رساله پر دې موضوع باندې نه ده لیکلې شوی.

---

**ذٰلِكَ نَتْلُوهُ عَلَيْكَ مِنَ الْاٰيٰتِ وَالذِّكْرِ الْحَكِيْمِ ﴿۵۸﴾ اِنَّ مَثَلَ عِيْسٰى عِنْدَ اللّٰهِ كَمَثَلِ اٰدَمَ ۭ خَلَقَهٗ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿۵۹﴾**

---

دا (چه تیر شول) مونږ ئې لولو پر تا (ای محمده!) له آیتونو او دین (یا پند یا قرآن یا لوح محفوظ) محکم څخه (چه هیڅ تغئیر او تبدیل نه لری) بیشکه مثل (صفت) د عیسیٰ په نزد د الله-په شان د مثل (صفت) د آدم دی، چه (الله) جوړ کړ هغه (آدم) له خاورو څخه بیا ئې وویل ده (آدم) ته (بشر) شه! پس (بشر) شو.

---

**تفسیر:** نصرانیانو په دې خبرې باندې زمونږ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ډیرې جګړې وکړې چه عیسیٰ علیه السلام بنده نه دی بلکه د الله تعالیٰ زوی دی نو په پای (آخر) کښې ئې وویل «که عیسیٰ د الله زوی نه دی نو ته ووایه چه پلار ئې څوک دی؟» نو د دوی په ځواب کښې دا آیت نازل شو چه آدم علیه السلام خو نه پلار درلود (لرلو) او نه مور نو که اوس عیسیٰ علیه السلام پلار نه لری نو دا د الله جل جلاله د قدرت په مقابل کښې کومه عجیبه خبره نه ده «موضح القرآن» نو په دې حساب سره ښائی چه آدم علیه السلام ته د الله جل جلاله زوی ووایه شی ځکه چه ستاسې په زعم دلته زوروړ دلائل شته حال دا چه د دې خبرې ویونکی هیڅوک نه دی.

---

**اَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ فَلَا تَكُنْ مِّنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴿۶۰﴾**

---

حق (هغه دی چه) راغلی دی له جانبه د رب ستا (د عیسیٰ په شان کښې) نو مه کیږه له شک کوونکو نه

**تفسیر:** یعنی د مسیح علیه السلام په نسبت کومه خبره چه الله جل جلاله فرمایلی ده هغه داسی حقه ده چه د شک او شبهې هیڅ ځای پکښې نشته او په صحیح او حقیقی خبره باندی په پوره دول (طریقه) سره دوی وپوهول شول.

---

فَمَنۡ حَآجَّكَ فِيهِ مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَكَ مِنَ ٱلۡعِلۡمِ فَقُلۡ تَعَالَوۡاْ نَدۡعُ أَبۡنَآءَنَا وَأَبۡنَآءَكُمۡ وَنِسَآءَنَا وَنِسَآءَكُمۡ وَأَنفُسَنَا وَأَنفُسَكُمۡ ثُمَّ نَبۡتَهِلۡ فَنَجۡعَل لَّعۡنَتَ ٱللَّهِ عَلَى ٱلۡكَٰذِبِينَ ﴿٦١﴾

---

نو هر څوک چه جګړه کوی له تا سره په (باره د) عیسیٰ کښې وروسته له هغه چه حاصل شو تا ته (صحیح) علم (د عیسیٰ په بندګی او نبوت) نو ووایه (ای محمده! دوی ته) راځئ! چه راوبولو زامن زمونږ او زامن ستاسی او ښځی زمونږ او ښځی ستاسی او ځانونه خپل او ځانونه ستاسی بیا به التجا عاجزی وکړو (په دعا کښې) نو وبه ګرځوو مونږ (وبه وایو) لعنت د الله په دروغجنانو باندی.

---

**تفسیر:** الله تعالیٰ حکم وفرمایه که د نجران نصرانیان سره له دومره پوهولو بیا هم ونه پوهیږی نو له دوی سره «مباهله» وکړه! چه د هغی له پاره داسی یو مؤثر او مکمل صورت تجویز کړی شو چه دواړه ډلی دی له خپل اولاد سره راحاضری شی!، او د زړه له کومی دی په ډیر اصرار او عاجزی سره داسی دعاوی وکړی «هر یو له مونږه څخه چه دروغ وائی په هغه باندی دی د الله تعالیٰ لعنت او عذاب ولوېږی!» دا د «مباهلی» اقدام په اول سر کښې د دی خبری اظهار کوی چه کومه ډله تر کومی اندازی پوری پخپلو زړونو کښې پخپل صداقت او حقانیت باندی باور او یقین لری؟ لکه چه د «مباهلی» د دعوت له اوریدلو څخه وروسته د نجران جرګی مهلت واخیست، او وئی ویل چه «مونږ به دی مورد کښې مشوره سره کوو بیا به ځواب وایو.» د مشوری په معرکی کښې د دوی پوهانو او تجربه کارانو وویل چه «ای د نصرانیانو ډلی! تاسی پخپلو زړونو کښې په یقین سره ګرد (تول) پوهیږئ چه دا محمد مرسل نبی دی او حضرت مسیح علیه السلام د ده په نسبت صافی فیصلی او ښکاره خبری کړی دی او تاسی ته دغه خبره هم څرګنده ده چه الله د اسمٰعیل علیه السلام په اولاده کښې د نبی د لیږلو وعده کړی ده. او هیڅ لری نه ده چه دا به همغه نبی وی. نو له نبی سره د کوم قوم د مباهلی او ملاعنی کولو هم دا نتیجه کیدی شی چه د هغه هیڅ یو لوی او وړوکی د الله تعالیٰ له عذاب څخه نه خلاصیږی. او د نبی د لعنت اثر تر ډیرو نسلونو پوری پاتی کیږی. ښه خو به دا وی چه اوس مونږ له ده

سره روغه وکړو او د خپلو کليو په لوری بيرته لاړ شو ځکه چه له ګردو (ټولو) عربو سره د جنګ کولو قوت په مونږ کښې نشته» د نجرانيانو د جرګې ګردو (ټولو) سړيو هم دا تجويز ومانه. او زمونږ د رسول الله صلی الله عليه وسلم په لوری وروهی (ورروان) شول. په هم دې وخت کښې محمد رسول الله صلی الله عليه وآله واصحابه وسلم سره له حضرات حسن، حسين، فاطمې، او علی المرتضیٰ رضی الله تعالیٰ عنهم اجمعين د باندې وتل، کله چه د نجرانيانو د لوی پادری سترګې په دې نورانی صورتونو باندې ولګيدې بې واکه ئې وويل چه «زه هسې پاک نورانی صورتونه وينم چه د دوی په دعا به غرونه له خپل ځايونو ځنې وخوځولې شې، نه چه د دوی له «مباهلې» ځنې مونږ هلاک شو او نه چه د دوی د ښيرا له امله (وجې) يو نصرانی هم په ځمکه کښې پاتې نشې» بالاخر دوی مقابله پرېښوده او روغه ئې سره وکړه. او کلنی «جزيه» ئې ومنله او صلحه ئې سره وکړه او بيرته ولاړل. د حضرت نبوی صلی الله عليه وسلم حديث دی «که نصرانيانو «مباهله» کړې وې نو دا ګرده (ټوله) وادی (بيديا) به اور ګرځيدلې وې او پر دوی باندې به اوريده او الله تعالیٰ به نجرانيان په کلی ډول (طريقه) له منځه وړې وې او د يوه کال په منځ کښې به ګرد (ټول) نصرانيان مړه شوی وی.»

**تنبيه:** لوی قرآن دا نه دی راښوولی چه وروسته له رسول صلی الله عليه وسلم به هم د «مباهلې» صورت اختياراوه شی که نه؟ او دا چه د «مباهلې» اثر به همغسې ظاهرېږی لکه چه د محمدی صلی الله عليه وسلم له «مباهلې» ځنې ظاهر کيدونکی ؤ؟ د ځينو اسلافو د عمل له طريقې او د ځينو حنفی فقهاؤ رحمة الله عليهم له تصريحاتو ځنې معلومېږی چه د «مباهلې» جواز تر اوسه پورې هم باقی دی مګر په هغو شيانو کښې چه د هغوی شرعی ثبوت بيخی قطعی وی او دا خبره ضروری نه دی چه په «مباهلې» کښې دې کوچنيان (ماشومان) او ښځې هم شاملې کړلې شی او نه به پر «مباهله» کوونکو باندې د هغه ډول (طريقه) عذاب راتلل ضروری وی چه زمونږ د رسول الله صلی الله عليه وسلم د «مباهلې» له امله (وجې) راته، بلکه دا يو ډول (طريقه) د حجت اتمام دی چه وروسته له هغه څخه د مجادلې، مباحثې او مناقشې ابواب ترل کيږی. او زما په خيال «مباهله» له هر کاذب سره نه وی بلکه ښائی چه يواځې له معاند کاذب سره دی وشی.(ابن کثير رحمة الله عليه) وائی «**ثم قال الله تعالیٰ آمراً رسوله صلی الله عليه وسلم ان يباهل من عاندالحق فی امر عيسیٰ عليه السلام بعد ظهور البيان**» **والله اعلم**

---

# إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ الْقَصَصُ الْحَقُّ ۚ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا اللَّهُ ۚ

---

بيشکه دا (حال د عيسیٰ او د مريمې چه تا ته بيان شو) خامخا دا بيان حق دی او نشته هيڅ بر حق معبود مګر يوازې الله دی،

---

**تفسير:** د مباهلې له بلنې څخه دا راڅرګنده شوه چه مباهله د دې له پاره وه چه هر هغه څه

چه په قرآن کښې د مسیح علیه السلام په باره کښې ویلې شوې دي، هغه حق او رښتیا دي. او د الله تعالیٰ دربار له هر ډول (طریقه) شرک او پلار او زویتوب او نورو تعلقاتو څخه بیخي مبراء او پاک دی.

وَإِنَّ اللَّهَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٦٢﴾

او بیشکه الله خامخا هم دی ډیر غالب قوي دی (د احکامو په انفاذ) ښه حکمت والا (چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوي).

تفسیر: پخپل کامل قدرت او حکمت سره به د رښتین او دروغجن سره همغسې معامله وکړي چه د هر یوه له حاله سره هغه وړ (لائق) او مناسبه وي.

فَإِن تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِالْمُفْسِدِينَ ﴿٦٣﴾

نو که وګرځېدل دوی (ایمان ته ئې شا کړه او اسلامي احکام ئې ونه منل) پس بیشکه الله ښه پوه دی په فساد کوونکو (نو جزا به ورکړي دوی ته).

تفسیر: که نه ئې په دلائلو سره مني او نه «مباهلې» ته تیارېږي نو پوه شه چه د دوی مقصود د حق اثبات نه دی او نه پخپلو زړونو کښې د خپلو عقایدو پر صداقت باندې څه یقین او باور لري، یوازې فتنه او فساد خورول د دوی مطلب دی نو ته ښه وپوهیږه چه ګرد (ټول) مفسدان د الله تعالیٰ تر نظر لاندې دي (او بې له مجازاتو ئې له سره نه پرېږدي).

قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ ۚ

ووایه (ای محمده!) چه ای اهل کتابو! راځئ تاسې په طرف د یوې کلمې (خبرې) چه برابره ده په منځ زمونږ او ستاسې کښې (او هغه دا ده) چه عبادت به نه کوو مګر یوازې د الله او شریک به نه نیسو په الله پورې هیڅ شی او نه به نیسي ځینې زمونږ ځینې نور خدایان غیر له الله (لکه چه تاسې کتابیان احبار او رهبان نیسئ)،

**تفسیر:** پخوا له دی نه قصه تیره شوه، کله چه زمونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم د (نجران) جرگی ته وفرمایل «اسلموا مسلمانان شئ!» نو نجرانیانو وویل «اسلمنا مونږ مسلمانان یو!» له دی ځنی ښکاره شوه، چه دوی هم د مسلمانانو په شان د اسلام دعوی کوونکی وو. نو هر کله چه د توحید دعوت یهودانو او نصرانیانو ته وړاندی کیده دوی به ویل چه مونږ هم د الله تعالیٰ په وحدانیت باندی قائل یو. بلکه هر یو مذهب لرونکی به یو نه یو رنگ او ډول (طریقه) سره پورته تللی اقرار کوی چه الله تعالیٰ همغه رب العٰلمین جل وعلیٰ شانه دی. دلته هم دی لوری ته توجه کړی شوی ده، چه په اساسی عقیده د الله تعالیٰ په توحید او خپل ځان مسلمان گڼلو کښی، مونږ واړه سره متفق یو، او هم دا د توحید عقیده مونږ گرد (ټول) سره یو کولی شی، په دی شرط سره چه وروسته له دی نه تاسی له خپلو تصرفاتو او تحریفاتو (اړولو را اړولو) ځنی واوړی! او په هغی کښی نوری گوتی ونه وهئ! او حقیقت ئی وانهړوئ! دی خبری ته ډیر ضرورت دی همغسی چه تاسی په ژبه سره ځان «مسلم» او «موحد» بولئ!، عملاً او حقیقتاً هم خپل ځان یوازی همغه (وحده لاشریک له خدای) ته وسپارئ! او پرته (علاوه) له هغه د بل چا بندگی ونه کړئ! او نه د الوهیت په مخصوصو صفاتو کښی بل شی له الله تعالیٰ سره مل او شریک وگڼئ! او نه له کوم نبی علیه السلام ولی ، مرشد، پیر، فقیر، او بل چا سره هسی معامله وکړئ چه هغه یوازی له الله تعالیٰ سره وړ (لائق) او مناسب وی. مثلاً ځینو ته د هغه زوی او لمسی مه وایئ! یا له شرعی نصوصو ځنی سترگی مه پټوئ! او یوازی د بل چا له حرام او حلال ویلو ځنی د یوه شی په حل او حرمت باندی باور مه لرئ! لکه چه د ﴿ اِتَّخَذُوٓا اَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَانَهُمۡ اَرۡبَابًا مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ ﴾ له تفسیر ځنی دا خبره راښرگندیږی. ځکه چه دا گرد (ټول) امور د توحید او د اسلام له دعوی سره منافات لری.

---

فَاِنۡ تَوَلَّوۡا فَقُوۡلُوا اشۡهَدُوۡا بِاَنَّا مُسۡلِمُوۡنَ ﴿۶۴﴾

---

نو که وگرځیدل دوی (له توحیده او اسلامی احکامو ته ئی شا واړوله) پس ووایئ تاسی (ای مؤمنانو کتابیانو ته چه) شاهدان شئ تاسی په دی چه په تحقیق مونږ مسلمانان یو (او تاسی نه یئ).

---

**تفسیر:** یعنی ای کتابیانو تاسی سره د توحید او د اسلام د دعوی له الله تعالیٰ ځنی غاړی غړوئ! او مونږ مسلمانان «الحمد لله» په هغی باندی ټینگ ولاړ یو! او خپل ځانونه یوازی واحد، احد، صمد الله تعالیٰ ته سپارو! او د هغه تابعان او فرمان منونکی یو نه تاسی. ځکه چه تاسی د خپل نبی حکم نه منئ!

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تُحَآجُّونَ فِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَمَآ أُنزِلَتِ ٱلتَّوۡرَىٰةُ وَٱلۡإِنجِيلُ
إِلَّا مِنۢ بَعۡدِهِۦٓۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ٦٥ هَٰٓأَنتُمۡ هَٰٓؤُلَآءِ حَٰجَجۡتُمۡ فِيمَا
لَكُم بِهِۦ عِلۡمٞ فَلِمَ تُحَآجُّونَ فِيمَا لَيۡسَ لَكُم بِهِۦ عِلۡمٞۚ وَٱللَّهُ
يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ٦٦

ای اهل د کتابو! ولی جګړه کوئ تاسي (په شان د) ابراهيم کښي (په دی شان چه هر يو له تاسي ئی پخپل دين ګڼئ) حال دا چه نه دی نازل کړی شوی تورات او انجيل مګر (په سلهاؤ کلونو) وروسته له ده آيا نو هيڅ عقل نه لرئ تاسي (چه داسي چټی (بيکاره) خبری کوئ) واورئ خبردار شئ تاسي هغه کسان يئ چه جګړه مو کړی ده (له ډيره حماقته) په هغه شی کښي چه ؤ تاسي ته په هغه کښي څه علم نو ولی جګړه کوئ تاسي په هغه شی کښي چه نشته تاسي لره په هغه کښي هيڅ علم، حال دا چه الله پوهيږی (په هغه شی هم چه تاسي پکښي جګړه کوئ) او تاسي نه پوهيږئ (جاهلان يئ)

**تفسير:** لکه چه په توحيد او د اسلام په دعوی کښي ګرد (ټول) سره مشترک وو، هم داسي د ابراهيم خليل الله عليه السلام په تعظيم او تکريم کښي هم تول سره شريکان وو او له يهودانو او نصرانيانو څني هری ډلی بيله دعوی کوله چه ابراهيم عليه السلام زمونږ په دين ؤ، يعنی (معاذ الله) يهودی يا نصرانی ؤ. د دی ځواب ئی داسي ورکړ چه (توريت) او (انجيل) چه د هغو پيروانو ته يهودی يا نصرانی وائی، په سلهاؤ کلونو وروسته له ابراهيم عليه السلام څني نازل شوی دی، نو بيا ابراهيم عليه السلام ته يهودی يا نصرانی څرنګه ويلی شی؟ بلکه په دی ډول (طريقه) چه تاسي يهودی يا نصرانی يئ، په دی وصف او معنی پخپله موسیٰ يا عيسیٰ عليهما السلام ته هم يهودی يا نصرانی نه ويل کيږی. او که دا مطلب وی چه د حضرت ابراهيم عليه السلام شريعت زمونږ له مذهب سره ډير نژدی ؤ، نو دا هم غلطه ده، ځکه چه تاسي په دی باندی له کومه پوه شوئ؟

دا خو ستاسي په کتابونو کښي نشته، او نه د الله تعالیٰ له جانبه تاسي ته خبر درکړی شوی دی او نه تاسي د دی خبری کوم ثبوت وړاندی کولی شئ، نو بيا په داسي خبره کښي جګړه کول، چه د هغی هيڅ علم او پوهه له هيڅا سره نه وی، که حماقت او ناپوهی نه ده نو څه ده؟ د هغو شيانو په نسبت چه تاسي لږ ډير علم درلود (لرلو) هغه هم محض سطحی او ناتمامه ؤ مثلاً د مسيح عليه السلام واقعات يا د آخرالزمان رسول الله صلی الله عليه وسلم بشارتونه او نور. نو

تاسې ولې په هغو مواردو کښې سره جګړه کوئ؟ چه تاسې بیخي له هغو څخه بې خبره یئ او له سره پرې نه پوهیږئ! ښه معلومه ده، چه ابراهیم علیه السلام څه ؤ؟ او نن په دنیا کښې د کومې دلې مسلک هغه ته ډیر نژدې دی؟

مَا كَانَ إِبْرٰهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا وَلٰكِنْ كَانَ حَنِيفًا مُّسْلِمًا ۗ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿٦٧﴾

(پاک الله د ابراهیم علیه السلام د پاکوالي په باره کښې فرمائي چه) نه ؤ ابراهیم یهودی او نه نصراني ولیکن ؤ دی حنیف (مائل له ګردو (ټولو) باطلو مذاهبو څخنې حق دین ته) مسلمان (حکم منونکی د الله)، او نه ؤ (ابراهیم) له مشرکانو نه.

**تفسیر:** یعني ابراهیم علیه السلام به خپل ځان «حنیف» یا «مسلم» باله. د «حنیف» معنی دا ده چه د حق په سمه لاره باندې برابر درومي او نورې ګردې (ټولې) باطلې لارې پرېږدي. او د «مسلم» معنی حکم منونکی دی. نو اوس تاسې پخپله اتکل وکړئ! چه نن کومې دلې له ګردو (ټولو) څخنې خپل غیر مشروع تعلقات شکولي (پرېکړي) دي؟ او د الله تعالیٰ لاره ئې تینګه نیولې ده؟ او خپل ځان ئې بیخي الله جل جلاله ته سپارلی دی؟ نو همغه به ابراهیم علیه السلام ته زیات اشبه او نژدې وي.

**تنبیه:** دلته د «مسلماً» څخنې د اسلام څخه خاص محمدي شریعت مرادول ضروري نه دي. ځکه چه معنی ئې تش تسلیم، تفویض او فرمان منل دي چه هغه د ګردو (ټولو) انبیاؤ دین دی. خو ابراهیم علیه السلام په دې خصوصیت سره دا نوم او لقب زیات روڼ کړی دی ﴿ إِذْ قَالَ لَهُ رَبُّهُ أَسْلِمْ قَالَ أَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعٰلَمِينَ ﴾ (د البقرة ۱۳۱ آیة ۱۶ رکوع) د حضرت ابراهیم علیه السلام د ژوندانه د سوانحو یو یو حرف دا راښئي چه دی سر تر پایه د اسلام او تسلیم او په قضا باندې د رضاء حقیقي مجسمه او مصداق ؤ. د اسمٰعیل علیه السلام د ذبحې په واقعه کښې د ﴿ فَلَمَّا أَسْلَمَا وَتَلَّهُ لِلْجَبِينِ ﴾ جمله د ده د اسلام شان په ډیر وضاحت او صراحت سره ښکاروي. «**اللهم صل وسلم وبارک علیٰ محمد وعلیٰ آل محمد کما صلیت وسلمت وبارکت علیٰ ابراهیم وعلیٰ آل ابراهیم انک حمید مجید**»

إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِإِبْرٰهِيمَ لَلَّذِينَ اتَّبَعُوهُ وَهٰذَا النَّبِيُّ وَالَّذِينَ آمَنُوا ۗ

بیشکه ډير نژدی له خلقو نه ابراهيم ته هرومرو (خامخا) هغه کسان دی چه متابعت ئی کړی ؤ د ده (یعنی خپل امت ئی) او دا نبی (محمد) دی او هغه کسان دی چه ایمان ئی راوړی دی ( له محمدی امته)

**تفسیر:** الله تعالیٰ راوښوده چه له ابراهیم علیه السلام سره د ده د زمانی امت زیات مناسبت درلود (لرلو). او په وروستنیو امتونو کښی ئی محمدی امت. د دغه پیغمبر امت هم په نامه او هم په دود او دستور کښی له ابراهیم علیه السلام سره زیات مناسبت لری. او د دی امت پیغمبر محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم خلقاً (په پیدائښت) خلقاً (په عادت) صورت او سیرت کښی له حضرت ابراهیم علیه السلام سره ډير زیات شبیه دی، چه د ابراهیم علیه السلام د هغی دعا او غوښتنی سره سم راغلی دی چه د البقرة په ۱۲۹ آیة ۱۵ رکوع کښی مو د هغه تلاوت وکړ ﴿ رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْهُمْ ﴾ الآیة - له هم دی امله (وجی) د (حبشی) نصرانی پاچا (نجاشی) مسلمانانو مهاجرینو ته د «ابراهیم حزب» ویلی ؤ، ښائی د هم دی راز (قسم) مناسباتو له امله (وجی) په درود شریف کښی «کما صلیت علیٰ ابراهیم» فرمایل شوی دی یعنی له هغه نوعیته او نمونی «صلواة» ورنازل کړه! چه پر ابراهیم علیه السلام او د ابراهیم علیه السلام په آل باندی دی نازلاوه په (جامع ترمذی) کښی دا حدیث راغلی دی «**ان لکل نبی ولاة من النبیین وان ولیی ابی و خلیل ربی**» د دی مضمون تفصیل به وروسته راځی (انشاء الله تعالیٰ!).

وَاللَّهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٦٨﴾

او الله ولی (دوست ناصر حافظ) د مؤمنانو دی (چه له دوی سره مرستی کوی او ښه اجر ورکوی)

**تفسیر:** یعنی د خپلی لاری په حقانیت باندی د بل موافقت او مشابهت یواځی هلته دلیل راوړل کیږی کله چه پخپله په ده باندی وحی نه راځی، نو الله جل جلاله د مسلمانانو «ولی» دی چه دوی (مستقیماً او په سمه لاره) د ده په حکم باندی درومی «موضح القرآن».

وَدَّتْ طَّائِفَةٌ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ يُضِلُّونَكُمْ وَمَا يُضِلُّونَ إِلَّا أَنفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿٦٩﴾

دوست ګڼی هیله (امید) کوی یوه طائفه له اهل کتابو څخه د دی چه (په

کوم قسم وښويوی) ګمراه کړی تاسی او نه ګمراه کوی (په واقع کښی نه ښويوی) دوی مګر نفسونه خپل (چه عذاب او وبال ئی هم دوی ته راجع کیږی) او (په دی) نه پوهيږی دوی.

**تفسير:** پخوا ئی ویلی ؤ «والله ولی المؤمنين» دلته ئی راوښوده، کله چه د مؤمنانو «ولی» الله تعالیٰ دی نو ستاسی مکر او پلمی (منصوبی) پر دوی باندی هيڅ نشی چليدی. بيشکه چه ځينی کتابيان غواړی چه د خپلو ځانونو په شان مسلمانان هم له سمی لاری ځنی واړوی، خو مسلمانان د دوی په جال کښی نه نښلی. هو! دغه خلق خامخا پخپله ګمراهی او وبال کښی زيادت کوی. او د دوی د دی اغوا کوونکو کوښښونو ضرر هم دوی ته بيرته ور رسيدونکی دی چه په هغه باندی دوی اوس نه پوهيږی.

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تَكۡفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَأَنتُمۡ تَشۡهَدُونَ ﴿٧٠﴾

ای اهل د کتابو! ولی کافران (منکران) کیږئ تاسی په آیتونو د الله (قرآن) باندی حال دا چه تاسی شاهدان يئ (اقرار کوئ په حقانيت د کلام الله او نعمت د رسول الله)

**تفسير:** يعنی تاسی په (تورات) او نورو باندی قائلان يئ! چه په هغو کښی د (محمد النبی رسول العربی صلی الله عليه وسلم) او د لوی قرآن په نسبت بشارتونه او زيری شته او په هغو باندی تاسی ښه خبر يئ او په پټو مرکو کښی تاسی پر دی شيانو باندی اقرار او تصديق هم کوئ! نو بيا ظاهراً او په ښکاره دول (طريقه) ولی له هغو ځنی مخالفت کوئ؟ او پر پاک قرآن باندی ولی ايمان نه راوړئ؟ او د خاتم الانبياء تصديق د څه له پاره نه کوئ؟ ښه وپوهيږئ چه له قرآن عظيم الشان ځنی انکار په حقيقت کښی له ګردو (تولو) پخوانيو آسمانی کتابونو ځنی انکار دی.

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تَلۡبِسُونَ ٱلۡحَقَّ بِٱلۡبَٰطِلِ وَتَكۡتُمُونَ ٱلۡحَقَّ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٧١﴾

ای اهل د کتابو! ولی ګدوئ تاسی حق له باطلو (خپل دروغ له رښتيا آسمانی کتابونو) سره؟ او پټوئ تاسی حق (د محمد نبوت) حال دا چه تاسی پوهيږئ (په دی خلطولو او پټولو)

**تفسیر:** دوی د «تورات» ځینی حکمونه د دنیوی غرضونو او مالونو له امله (وجی) بیخی لغوه کړی وو په ځینو آیاتو کښی ئی لفظی تحریفات او د ځینو معنی ئی بدله کړی او ځینی شیان ئی لکه د آخر الزمان نبی صلی الله علیه وسلم بشارتونه بیخی پټ کړی وو، او شوک ئی پری نه خبرول.

وَقَالَتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْ أَهْلِ الْكِتٰبِ اٰمِنُوْا بِالَّذِيْٓ أُنْزِلَ عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَجْهَ النَّهَارِ وَاكْفُرُوْٓا اٰخِرَهٗ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿٧٢﴾

او وویل یوی طائفی له اهل د کتابو (بلی طائفی ته) چه ایمان راوړئ په هغه (قرآن)! چه نازل کړی شوی دی په هغو کسانو چه مؤمنان دی (یعنی ای کتابیانو ایمان راوړئ) په اول د ورځی کښی او کافران شئ (ای کتابیانو! بیا) په آخر د ورځی کښی له پاره د دی چه دوی (یعنی مؤمنان هم لکه کتابیان) (له ایمانه) وګرځی

**تفسیر:** په دی آیت کښی د کتابیانو د چالاکیو او د خیانتونو ذکر کیږی، چه یو له هغو ځنی دا ؤ، چه د دوی ځینی سری د ګهیځ (سحر) په وخت کښی په ښکاره ډول (طریقه) سره مسلمانیدل او له مسلمانانو سره به ئی لمنځونه کول او د ماښام په وخت کښی به ئی ویل «مونږ له خپلو لویو لویو علماؤ ځنی تحقیق کړی دی، چه دا هغه رسول نه دی چه زیری ئی راکړی شوی دی، او د تجربی له مخی هم د ده حالات د اهل الحق په شان راڅرګند نه شول نو ځکه له اسلامه ځنی بیرته اوړو.» ښکاره ده چه د هسی اوضاعو له امله (وجی) به نور ډیر ضعیف الایمان کسان هم بیرته آوښتل، او داسی به ئی ګڼل چه ضرور به د اسلام په دین کښی دوی څه نه څه عیب او نقص لیدلی وی چه دی خلقو وروسته د هغه له منلو ځنی له هغه څخه مخ واړاوه او هم د عربو په جاهلانو کښی د کتابیانو د علم او فضل لوی شهرت ؤ، نو ځکه داسی یو خیال هم پیدا کیده چه که دا نوی مذهب حق وی نو داسی پوهانو به غاړه تری نه غړوله بلکه له ګردو (تولو) ځنی به ئی پخوا هغه مانه.

وَلَا تُؤْمِنُوْٓا إِلَّا لِمَنْ تَبِعَ دِيْنَكُمْ ؕ

او مه منئ تاسی (ای کتابیانو د هیچا) مګر د هغه چا چه متابعت ئی کړی وی د دین ستاسی (چه یهودیت دی)

**تفسیر:** یعنی هغه یهودان چه مسلمانانو ته د نفاق په ډول (طریقه) خپل ځانونه مسلمانان ښرګندوی دوی ته دی دا ښه معلومه وی چه هغوی په رښتیا مسلمانان شوی نه دی، بلکه همغسی یهودان دی او په اخلاص سره د هغو یهودانو خبری اوری چه د هغوی په دین باندی رهی (روان) دی او د موسوی شریعت د اتباع دعوی کوونکی دی ځینو د ﴿ وَلَا تُؤْمِنُوٓا إِلَّا لِمَن تَبِعَ دِينَكُمْ ﴾

معنی داسی کری ده چه «په ظاهری ډول (طریقه) سره تاسی ایمان راوړئ! او خپل ځان مسلمان ښکاره کړئ! دا دی یوازی د هغو خلقو له پاره وی چه ستاسی پر دین باندی تګ کوی.» یعنی په دی تدبیر سره ښائی د خپلو هم مذهبانو ساتنه مو مقصود وی چه دوی مسلمانان نشی ـ یا هغه کسان چه مسلمانان شوی په دی چل او تدبیر سره بیرته مرتدان شی.

قُلْ إِنَّ الْهُدَىٰ هُدَى اللَّهِ

(فرمائی الله چه ای محمده دوی ته) ووایه بیشکه هدایت (حق دین) هم دا هدایت د الله (اسلامی دین دی)

**تفسیر:** یعنی هدایت خو د الله تعالیٰ په ورکولو سره مونده کیږی. د هر چا په زړه کښی چه الله تعالیٰ د هدایت رڼا واچوی، هغه ستاسی په هسی چلونو او فریبونو، نه ګمراه کیږی.

أَن يُؤْتَىٰٓ أَحَدٌ مِّثْلَ مَآ أُوتِيتُمْ أَوْ يُحَآجُّوكُمْ عِندَ رَبِّكُمْ

او دا (تدبیرونه ستاسی ای کتابیانو د حسد له مخی دی په دی) چه ولی ورکړی شی یو چا ته په مثل د هغو (فضائلو) چه درکړی شوی دی تاسی ته او (دپاره د بد ګڼلو د دی خبری چه مؤمنان) حجت قائم کړی او غالب شی پر تاسی په نزد د رب ستاسی (د حجت له مخی)

**تفسیر:** یعنی هسی مکرونه او تدبیرونه یواځی د رخی (کینی) او حسد له امله (وجی) کوی هغه دا چه نورو ته داسی شریعت او نبوت او رسالت ولی ورکول کیږی؟ لکه چه پخوا دوی ته ورکړی شوی ؤ یا په مذهبی او دینی جد او جهد کښی نور خلق ولی پر تاسی باندی غالب او وړاندی ځی؟ او د الله تعالیٰ په مخکښی تاسی ملزم کوی. یهودانو تل داسی خیالات شائع کول چه «په دنیا کښی یواځی هم دا زموږ قوم د شرعی علومو اجاره داران دی. «تورات» پر موږ باندی رانازل شوی دی. موسیٰ علیه السلام غوندی یو اولوا العزم نبی په موږ کښی مبعوث شوی دی. نو

د عربو امیان له دی فضل او کمال سره څه تناسب لری؟» مګر د تورات د (سفر استثناء) هغه عظیم الشانه پخوانی وینا نشی غلطیدی چه په هغی کښی دا راښوولی شوی ؤ چه الله تعالیٰ به د بنی اسرائیلو په ورونو بنی اسمٰعیلو کښی موسیٰ علیه السلام غوندی د مستقل شریعت خاوند یو نبی راولیږی، او خپل کلام لوی قرآن به د هغه په خوله کښی واچوی ﴿ إِنَّا أَرْسَلْنَا إِلَيْكُمْ رَسُولًا شَاهِدًا عَلَيْكُمْ كَمَا أَرْسَلْنَا إِلَىٰ فِرْعَوْنَ رَسُولًا ﴾ (۲۹ جزء د المزمل ۱۵ آیة ۱ رکوع) لکه چه بنی اسمٰعیلو ته دا لوی دولت ور په برخه هم شو، او دوی د علم، او فضل او حجت او برهان، او د مذهبی جداوجهد په میدان کښی نه یوازی له بنی اسرائیلو څخه، بلکه له ټولو نړیوالو څخه وړاندی تللی دی. فالحمد لله علیٰ ذلک.

**تنبیه:** د دی آیت تقریر په څو څو دوله (طریقو) سره کړی شوی دی. خو مونږ همغه تقریر غوره کړی دی، چه د هغه په طرف د (شیخ الهند«رحمة الله علیه») دغه ترجمه اشاره کوی «او دغه ګرد (ټول) شیان د دی له پاره دی چه بل چا ته هم ولی ورکړ شو هغه شی چه تاسی ته درکړی شوی ؤ، یا دوی ولی غالب شول پر تاسی ستاسی د رب په حضور کښی.»

قُلْ إِنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ ۗ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٧٣﴾
يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِ مَنْ يَشَاءُ ۗ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ﴿٧٤﴾

ووایه (ای محمده!) چه بیشکه فضل (علم او حکمت) په قدرت د الله کښی دی ورکوی ئی هغه چا ته چه اراده وکړی او الله پراخ دی (رحمت، فضل او احسان د ده) ښه عالم دی (د احسان په اهل هم) خاصوی په مهربانی خپلی (چه اسلام یا قرآن یا نبوت دی) هغه څوک چه اراده وکړی او الله څیښتن (خاوند) د فضل (مهربانی) ډیری لوئی دی (پر مؤمنانو باندی).

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ په خزانو کښی څه کمی نشته، او همغه پوهیږی چه کرامت د چا برخه ده د نبوت، شریعت، اسلام، ایمان، برهان او د هر راز (قسم) مادی او روحانی فضائلو او کمالاتو تقسیمول د همغه په قدرت کښی دی، هر کله، هر چاته، هر شی چه مناسب وبولی همغه ورکوی. ﴿ اللَّهُ أَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهُ ﴾ ۸ جزء د الانعام ۱۲۵ آیت ۱۵ رکوع).

وَمِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ مَنْ إِنْ تَأْمَنْهُ بِقِنْطَارٍ يُؤَدِّهِ إِلَيْكَ وَمِنْهُمْ مَنْ إِنْ تَأْمَنْهُ
بِدِينَارٍ لَا يُؤَدِّهِ إِلَيْكَ إِلَّا مَا دُمْتَ عَلَيْهِ قَائِمًا ۗ

او ځینی له اهل د کتابو هغه څوک دی که امین کړی ته دی په ډیر مال باندی نو بیرته به وسپاری دا (مال) تاته او ځینی له دوی څخه هغه دی که امین کړی ته هغه په یوه دینار باندی نو اداء به نه کړی دی دا دینار تاته مگر که ئی ته همیشه په ده ولاړ (له پاره د غوښتلو)

**تفسیر:** د اهل کتابو د دینی خیانت او نفاق په سلسله کښی د دنیوی خیانت ذکر هم راغی، چه له هغه ځنی دا خبره هم راڅرگندیږی هغه کسان چه د لږ شی له امله (وجی) خپل نیتونه خرابوی او د امانتداری رعایت نه کوی نو له دوی ځنی څرنگه داسی هیله (امید) او توقع کیدی شی چه په دینی معاملاتو کښی امین ثابت شی په دوی کښی ډیر داسی کسان شته دی چه له هغو سره زیات مال لا څه؟ که یوه طلا هم امانته کیښوده شی نو لږ موده وروسته پری منکریږی او تر څو چه څوک د غوښتلو او تقاضا له پاره هر وخت د دوی په سر باندی ولاړ نه وی نه ئی ادا کوی مگر په دی کښی شک نشته چه دوی ټول سره یو شان نه دی په دوی کښی ځینی داسی کسان هم شته که له هغوی سره د سرو زرو یوه لویه ډیری هم کیښوده شی نو یو بخرکی به هم تری خیانت نه کړی خو هم دا ښه معامله داران او امین کسان دی چه له یهودیت ځنی بیزار کیږی او د اسلام په دائره کښی ننوځی لکه حضرت (عبدالله بن سلام) او نور رضی الله تعالیٰ عنهم اجمعین.

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْا لَيْسَ عَلَيْنَا فِى الْاُمِّيّٖنَ سَبِيْلٌ ۚ

دغه (په امانت کښی خیانت) په سبب د دی دی چه بیشکه دوی (کتابیانو) وویل نشته پر مونږ باندی په (حق) د دی امیانو کښی هیڅ گناه (چه مالونه ئی وخورو)

**تفسیر:** یعنی د پردیو د حق خوړلو لپاره ئی دا مسئله جوړه کړی ده، چه «د عربی امیانو د مالونو خوړل چه زمونږ په دین کښی نه دی داخل په هر ډول (طریقه) سره چه زمونږ لاس ته راشی روا دی. که د نورو مذاهبو په امانت مال کښی خیانت وکړ شی نو په هغه کښی هم هیڅ گناه نشته. مخصوصاً هغه عرب چه د خپلو پلرونو له دین څخه راګرځیدلی او مسلمانان شوی دی الله تعالیٰ د هغوی مال مونږ ته حلال گرځولی دی». (نو «الله جل وعلیٰ شانه» د دغو کتابیانو په تردید، تذمیم (مذمت) او عتاب کښی چه د داسی شیانو نسبت الله جل جلاله ته کوی، داسی فرمائی)

وَيَقُولُونَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٧٥﴾

او وائی دوی (کتابیان) پر الله باندی دروغ (په دی دعویٰ کښې) حال دا چه دوی پوهیږی (پخپلو دغؤ دروغو ترلو باندی).

**تفسیر:** یعنی سره له پوهی او سده په قصد سره دروغ خبری الله جل جلاله ته منسوبوی په امانت کښې د خیانت کولو اجازه هیڅکله الله تعالیٰ نه ده فرمایلی نن هم زمونږ د فقهی کتابو مسئله هم دا ده چه «نه د مسلمان او نه د کافر په امانت کښې خیانت جائز دی.» (بیا الله تعالیٰ فرمائی)

بَلٰى مَنْ اَوْفٰى بِعَهْدِهٖ وَاتَّقٰى فَاِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ ﴿٧٦﴾

(ولی نشته عذاب) بلکه شته!. هر څوک چه وفا وکړی په عهد خپل (چه ایمان په نبی او د امانتونو ادا کول دی.) او پرهیزګاری وکړی (ځان وساتی له کفر او خیانته) نو بیشکه الله دوست ګڼی پرهیزګاران.

**تفسیر:** یعنی په خیانت او بد عهدی کښې به ولی ګناه نه وی؟ کله چه د الله تعالیٰ عام قانون دا دی هر څوک چه د الله تعالیٰ او د ده د بندګانو جائز عهد پوره کړی او له الله جل جلاله څخه وویریږی او د تقویٰ په لاره لاړ شی. یعنی له فاسدو خیالاتو، بدو عملونو او سپکو اخلاقو څخه ځان وژغوری (وساتی) نو له هغه سره الله تعالیٰ مینه کوی په دی کښې د امانتداری خصلت هم راغی.

اِنَّ الَّذِيْنَ يَشْتَرُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَاَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيْلًا

بیشکه هغه کسان چه پیری (بدل اخلی) دوی په عهد د الله باندی (چه ایمان په نبی او اداء د امانت ده) او په (دروغو) قسمونو خپلو باندی (ایمان په محمد او نصرت) قیمت لږ (دنیوی د هغه د نه منلو په عوض)

**تفسیر:** هغه کسان چه د دنیا لږه متاع اخلی او د الله تعالیٰ عهد او پخپلو منځونو کښې قسمونه ماتوی او یو له بله سره په معاملو کښې صداقت نه کوی او په هغه قول باندی چه له الله جل جلاله سره ئی کړی دی تینګ نه پاتی کیږی، بلکه د مال او جاه د حرص له کبله (وجی) شرعی احکام بدلوی او په سماوی احکامو کښې تحریف کوی د دوی انجام وروسته راځی. حضرت شاه

صاحب رحمة الله علیه لیکی «دا د یهودانو صفت ؤ چه (الله تعالیٰ له دوی ځنی اقرار اخیستی ؤ او دوی ته ئی قسمونه ورکړی ؤ چه له هر نبی سره به مرستی کوئ! بیا دوی د دنیوی مقاصدو له امله (وجی) له هغه ځنی واوښتل او هر هغه څوک چه د دنیوی ګټی اخیستلو له پاره په دروغو قسمونه وخوری د ده حال هم دا دی.»

---

أُولَٰئِكَ لَا خَلَاقَ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٧﴾

---

دغه کسان نشته هیڅ برخه د دوی دپاره په آخرت کښی او نه به خبری وکړی له دوی سره الله (په خوښی) او نه به وګوری دوی ته (الله په رحم سره) په ورځی د قیامت کښی او نه به پاک کړی دوی (الله له کفره) او (شته) دوی ته عذاب دردناک (په سبب د دغو بدو افعالو د دوی).

---

**تنبیه:** هم داسی یو مضمون په اول جزء د البقرة په ۱۷٤ آیة ۲۱ رکوع کښی تیر شوی دی، هلته دی د دی الفاظو تشریح وکتله شی!

---

وَإِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيقًا يَلْوُونَ أَلْسِنَتَهُمْ بِالْكِتَابِ لِتَحْسَبُوهُ مِنَ الْكِتَابِ وَمَا هُوَ مِنَ الْكِتَابِ وَيَقُولُونَ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ وَمَا هُوَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ

---

او بیشکه ځینی له دوی څخه خامخا یو فریق دی چه اړوی دوی ژبی خپلی په (لوستلو د) کتاب کښی (محرف ته) له پاره د دی چه وګڼئ تاسی دا (محرف عبارتونه) له کتاب (حق منزل نه) حال دا چه نه دی دا (محرف عبارتونه) له کتاب (منزل) څخه، او وائی دوی چه دا (محرف عبارتونه) له (جانبه د) الله دی حال دا چه نه دی دا (محرف عبارتونه راغلی) له (جانبه د) الله،

---

**تفسیر:** دا د کتابیانو د تحریف د حال بیان فرمائی یعنی په آسمانی کتاب کښی ئی د داسی

شیانو زیادت او تنقیص وکړ او بیا ئې په هسې دول (طریقه) او لهجه سره لوست چه امیان او ناپوهان به په هغه باندې تیروتل او داسې به ئې ګڼل چه دا ګرد (تول) آسماني کتاب دی او برسیره پر دی په خپلو ژبو سره به ئې ویل چه دغه د الله تعالیٰ له جانبه رانازل شوی دی حال دا چه نه هغه مضمون په کتاب کښې موجود ؤ او نه د الله تعالیٰ له جانبه ور نازل شوی ؤ بلکه پخپله دوی هم دا تحریف شوی کتاب په مجموعي هیئت سره د الله جل جلاله کتاب نه ګڼانه ځکه چه په هغه کښې ئې دول دول (قسم قسم) تصرفات او له خپله ځانه ئې تحریفات کړی وو هغه د (بائیبل، انجیل) نسخې چه نن ورځ په دنیا کښې شته د هغوی په منځ کښې هم داسې شدید اختلافات موندل کیږي چه سړی ورته حق حیران پاتې کیږي او داسې مضامین هم په کښې لوستل کیږي چه سړی له واره پرې پوهیږي چه دا هیڅکله د الله تعالیٰ له جانبه نه دي نازل شوي. چه د هغه لږ څه تفصیل په «روح المعاني» کښې راغلی دی او د تحریف په اثبات کښې زمونږ علماؤ (جزاهم خیر الجزا) ډیر مفصل بحثونه کړی دی.

---

وَيَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ۝ مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُؤْتِيَهُ اللَّهُ الْكِتَابَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُولَ لِلنَّاسِ كُونُوا عِبَادًا لِي مِنْ دُونِ اللَّهِ

---

او وائي دوی (یعني کتابیان) په الله باندې دروغ حال دا چه پوهیږي دوی (پخپلو دروغ ویلو) نه ښائي هیڅ بشر ته چه ورکړي ده ته الله کتاب او حکمت (شرعي احکام او عمیق اسرار) او نبوت بیا ووائي خلقو ته چه شئ تاسي بندګان (عبادت کوونکي) ما لره بې له الله څخه.

---

**تفسیر:** د (نجران) د جرګې د خبرو او اترو په ترڅ کښې ځینو یهودیانو او نصرانیانو ویلي وو «ای محمده! آیا ته داسې غواړې چه مونږ ستاسې همغسې عبادت وکړو لکه چه نصرانیان د حضرت عیسیٰ بن مریم علیه السلام عبادت کوي؟» رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل «معاذ الله چه مونږ د غیر الله عبادت وکړو. یا نورو ته د هسې کارونو دعوت ورکړو. حق تعالیٰ مونږ د دې کار له پاره نه یو رالیږلي» نو د دې خبرې په نسبت دا آیت نازل شو یعنې هر هغه بشر ته چه حق تعالیٰ کتاب او حکمت او د فیصلې قوت ورکړي او د رسالت په منصب باندې ئې سر لوړي وګرځوي چه دی په ډیر ښه دول (طریقه) سره د الله تعالیٰ پیغام نورو خلقو ته ورسوي او د بندګۍ او د وفادارۍ په طرف ئې متوجه کړي د هغه کار هیڅکله داسې نشي کیدی چه خلق د الله تعالیٰ له خالصه بندګۍ ځنې واړوي او د خپل ځان یا د بل کوم مخلوق بندګۍ ته ئې وبلي.

نو د هغه معنی به داسی کیږی چه پاک خدای هر هغه څوک چه د هر منصب وړ (مستحق) او لائق ګرځولی او رالیږلی ئی ؤ هغه په واقع کښی د هغه اهلیت نه درلود (لرلو). د دنیا کوم حکومت هم که کوم سړی په کوم مسئولیت سره په کوم کار باندی مقرروی نو ړومبی دا دوه خبری له خپله ځانه سره سنجوی (ګوری)

(۱) دا سړی د حکومت په کار باندی پوهیږی؟ او د خپلو ورسپارل شویو کارونو په پای (انجام) ته رسولو کښی بریالی (کامیاب) کیدی شی؟ او لیاقت ئی لری؟ که نه؟

(۲) د حکومت د احکامو په تعمیل او د رعیت د اطاعت او د وفاداری د اصولو په ساتلو او تینګولو کښی تر کومه ځایه پوری هیله (امید) او توقع ورځخه کیدی شی؟ کله چه کوم باچا یا کوم حکومت داسی یو سړی خپل صدر اعظم، وزیر، نائب الحکومه او سفیر نه تاکی (مقرروی)، چه دی له هری خوا پری داده نه وی او هغه ئی اهلیت او لیاقت ونه لری نو الله تعالیٰ به څرنګه خپل رسولان جامع الاطراف او کاملان نه رالیږی؟ هو! باچاهانو او حکومتو ته د داسی پیښو د ورپښیدلو امکان شته چه د هغه وزیر، نائب الحکومه او سفیر د خپل حکومت په مخالفت، بغاوت، یا د هغه له رضا ځخه مخالف کار وکړی ولی د پاک الله په رسولانو کښی د هسی احتمالاتو هیڅ توهم نشی کیدی. که د کوم فرد په نسبت د ده علم داسی وی، چه هغه زما له وفاداری او اطاعت شعاری ځنی د یوه ویښته په اندازه هم تجاوز نه کوی، نو محال دی چه هغه وروسته له دی نه د هغه په خلاف ثابت شی، که نه د الله تعالیٰ د علم غلطی ثابتیږی العیاذ بالله له هم دی ځایه د انبیاؤ د عصمت مسئله څرګندیږی «کما نبه علیه ابوحیان رحمة الله علیه فی البحر - وفصله مولانا قاسم العلوم والخیرات رحمة الله علیه فی تصانیفه» کله چه انبیاء علیهم السلام له ادنیٰ عصیان ځنی هم پاک دی، نو بیا د شرک او د پاک الله په مقابل کښی د بغاوت امکان چیری پاتی کیږی؟ له دی ځنی د نصرانیانو د هغی دعوی تردید هم وشو چه ویل به ئی «د مسیح علیه السلام د ابنیت او د الوهیت عقیده مونږ ته پخپله مسیح علیه السلام راښوولی ده.» او هغو مسلمانانو ته هم نصیحت وکړل شو چه هغوی د رسول الله مبارک حضور ته عرض کړی ؤ، چه مونږ ته اجازه راکړئ چه د سلام اچولو په ځای تاسی ته سجدی وکړو او پر کتابیانو باندی هم تعریض وشو چه هغوی خپلو احبارو او رهبانانو ته د الوهیت درجه ورکوله العیاذ بالله.

**تنبیه:** په ﴿ مَا كَانَ لِبَشَرٍ ﴾ الآیة - کښی د ابوحیان رحمة الله علیه په نزد هم داسی نفی ده لکه چه په ﴿ مَا كَانَ لَكُمْ أَنْ تُنْبِتُوا شَجَرَهَا ﴾ کښی. یا په ﴿ وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَنْ تَمُوتَ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ ﴾ کښی دی وهو اصوب عندی. (یعنی د نفی امکان.)

وَلٰكِنْ كُونُوا رَبَّانِيِّينَ بِمَا كُنْتُمْ تُعَلِّمُونَ الْكِتٰبَ وَبِمَا كُنْتُمْ تَدْرُسُونَ ﴿٧٩﴾

ولیکن (وائی چه) شئ تاسی عالمان عاملان په سبب د دی چه یئ تاسی چه

ښوونه کوئ (خلقو ته) کتاب (شرعی احکام) او په سبب د دی چه يئ تاسی چه تدريس کوئ (او درس اخلئ پخپله دا کتاب لولئ او نورو ته ئی هم لولوئ)

**تفسير:** په «موضح القرآن» کښی دی «هر هغه څوک چه د الله تعالیٰ له جانبه په نبوت سره وستايل شی او دی خلق له کفر او شرک څخنی راباسی او د مسلمانی په لوری ئی راولی نو بيا به دی څرنګه هغو ته کفر ورزده کوی؟ هو! تاسی ته (ای کتابيانو) داسی ويل کيږی چه له تاسی څخنی هغه کسان چه پخوا له دی نه ديندار ؤ، اوس د هغوی په شان ديندار او د کتاب لوستونکی او زده کوونکی نه دی پاتی او زما په صحبت کښی اوس ممکن دی چه همغه کمال بيا حاصل کړئ! او عالم، حکيم، فقيه، مدبر، عارف، متقی او بنه الله پرست شئ! او دا شرف تاسی ته د لوی قرآن له لوستلو او لولولو او پوهيدلو او پوهولو څخه په لاس درتلی شی.

وَلَا يَأْمُرَكُمْ أَنْ تَتَّخِذُوا الْمَلَٰئِكَةَ وَالنَّبِيِّـۧنَ أَرْبَابًا ؕ

او نه کوی امر تاسی ته (الله يا نبی) د دی چه ونيسئ تاسی پرښتی او انبياء خدايان

**تفسير:** لکه چه نصرانيانو مسيح عليه السلام او روح القدس عليه السلام ته او ځينو يهودانو عزير عليه السلام ته او ځينو مشرکينو پرښتو ته خدايان ويل. هر کله چه پرښتی او رسولان له الله جل جلاله سره په خدائی کښی نشی شريک کيدی نو تيږی (ګټی)، صليب او نور په کوم شمير کښی راځی.

أَيَأْمُرُكُمْ بِالْكُفْرِ بَعْدَ إِذْ أَنْتُمْ مُسْلِمُونَ ﴿۸۰﴾

آيا امر کوی (الله يا نبی) تاسی ته په کفر سره وروسته له دی نه چه يئ تاسی مسلمانان (غاړه ايښودونکی شرعی احکامو ته).

**تفسير:** يعنی ږومبی نبيانو کوښښ وکړ چه خلق ربانی د الله خاص بندګان، موحدين او مسلمانان وګرځوی هر کله چه خلقو هغه ومانه نو آيا هغوی بيا دوی د کفر او شرک په لوری بيائی او خپل هغه زيار (کوشش) او ګرد (تول) زحمتونه په خپلو لاسونو سره ابته او بربادوی دا خبره فهم ته نشی راتلی.

وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ النَّبِيِّينَ لَمَا آتَيْتُكُم مِّن كِتَابٍ وَحِكْمَةٍ ثُمَّ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهِ وَلَتَنصُرُنَّهُ ۚ قَالَ أَأَقْرَرْتُمْ وَأَخَذْتُمْ عَلَىٰ ذَٰلِكُمْ إِصْرِي ۖ قَالُوا أَقْرَرْنَا ۚ

او (یاد کړه ای محمده !) هغه وخت چه واخیست الله عهد محکم له ټولو انبیاؤ چه خامخا هغه شی چه درکړم زه تاسی ته چه هغه کتاب او حکمت (شرعی احکام او عمیق اسرار) دی بیا راشی تاسی ته رسول (محمد) چه مصدق (رښتیا کوونکی) دی د هغه کتاب چه له تاسی سره دی نو هرومرو (خامخا) به ایمان راوړئ تاسی خامخا په هغه او هرومرو (خامخا) مدد به کوئ تاسی خامخا ورسره، وویل (الله دوی ته) آیا اقرار وکړ تاسی په دغه (ایمان او نصرت) او واخیسته (قبوله کړه) تاسی پر دی (ایمان او نصرت) تینګه وعده زما ؟، وویل دوی اقرار وکړ مونږ (په دی)،

**تفسیر:** یعنی هیڅ یو نبی د خپلی بندګی تعلیم نشی ورکولی بلکه د یوه الله جل جلاله بندګی ورښئی هو! رسولانو ته دا حق شته چه خلق دی پر دوی باندی هم ایمان راوړی او د دوی خبرو ته دی غوږ کیږدی او له دوی سره دی هر راز (قسم) مرستی (مدد) وکړی. عام خلق لا څه بلکه الله تعالیٰ له خپلو انبیاؤ علیهم السلام څخه هم داسی تینګ عهد او پیمان اخیستی دی چه هر کله له تاسی څخه وروسته کوم نبی راشی چه یقیناً د پخوانیو انبیاؤ علیهم السلام او د هغو د کتابونو به په اجمال یا په تفصیل سره تصدیق کوی نو ضروری خبره ده چه ړومبی نبی دی د وروستنی نبی پر صداقت باندی ایمان راوړی او د هغه مرسته (مدد) دی وکړی! که عمر ئی د هغه زمانی ته ورسیږی نو بالذات پخپله او که نه خپل امت ته دی پوره هدایت ورکړی چه په وروستنی راتلونکی نبی باندی هرومرو (خامخا) ایمان راوړئ او د هغه نصرت او اعانت وکړئ څکه چه داسی وصیت کول هم د هغه په مرسته (مدد) کښی داخل دی. له دی عامی قاعدی څخه د سپینی ورځی په شان ښکاره ده چه زمونږ په خاتم الانبیاء محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی ایمان راوړل او د هغوی د مدد کولو عهد به بلا استثناء له ګردو(ټولو) پخوانیو انبیاؤ علیهم السلام څخه اخیستی شوی وی او دوی له خپلو امتیانو څخه دا قول او اقرار اخیستی دی څکه چه د هم ده مخزن الکمالاتو پاک وجود ؤ چه په «عالم الغیب» کښی له پخوا څخه او په «عالم الشهادت» کښی له ګردو (ټولو) انبیاؤ علیهم السلام څخه وروسته تشریف راوړونکی ؤ او له دوی څخه وروسته بل کوم نبی راتلونکی نه ؤ او د هم دوی ذات کریم د ګردو (ټولو) پخوانیو انبیاؤ او سماوی کتابونو پر حقانیت باندی د تصدیق مهر لګوونکی ؤ لکه چه له حضرت علی او ابن

عباس او نورو رضی الله تعالیٰ عنهم څخه منقول دی چه دا قسم عهد له انبیاؤ علیهم السلام څخه اخیستل شوی دی او پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلی دی «که نن موسیٰ علیه السلام ژوندی وی نو بی زما له متابعته بله چاره به ئی نه درلوده (لرلو)» او فرمایلی ئی دی «کله چه عیسیٰ علیه السلام راکښیوځی نو په کتاب الله قرآن کریم او ستاسی د نبی په سنت باندی به فیصلی صادروی» په محشر کښی د کبری شفاعت له پاره له نورو ځنی پخوا وړاندی کیدل او د ګردو (تولو) بنیادمانو تولیدل د دوی تر بیرغ لاندی او د (معراج) په شپه په (بیت المقدس) کښی ګردو (تولو) انبیاؤ ته لمونځ ورکول زمونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د هم دی عام سیادت او عظمی امامت له آثارو ځنی دی اللهم صلی علیٰ سیدنا محمد وعلیٰ آله وبارک وسلم.

قَالَ فَاشْهَدُوا وَأَنَا مَعَكُمْ مِّنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿٨١﴾

وفرمایل (الله) نو تاسی شاهدان اوسیٔ (پخپل نفس او اتباعو) او زه هم له تاسی سره له شاهدانو ځنی یم (پر تاسی او په هغوی باندی په دی اقرار کښی)

**تفسیر:** دا الفاظ ئی یوازی د عهد د تاکید او اهتمام له پاره فرمایلی دی. ځکه چه پر هر هغه عهد باندی چه د الله تعالیٰ او د هغه د نبیانو علیهم السلام شاهدی وی، نو له هغه نه به بل پوخ سند چیری پیدا شی؟

فَمَنْ تَوَلّٰى بَعْدَ ذٰلِكَ فَأُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿٨٢﴾

نو هر څوک چه بیرته وګرځید وروسته له دی (د ایمان او نصرت عهده) نو دغه (شا ګرځوونکی کسان) هم دوی فاسقان دی (چه عهد ته ئی شا کړی ده).

**تفسیر:** د هغه شی عهد چه الله تعالیٰ له ګردو (تولو) نبیانو علیهم السلام ځنی اخیستی دی او نبیانو علیهم السلام له خپلو امتونو څخه اخیستی دی اوس که په دنیا کښی کوم سری له هغه څخه مخ وګرځوی. نو بیشکه چه هغه به له اولی درجی بد عهدانو او نافرمانانو ځنی وی. په (بائیبل، انجیل) د اعمال رسل په ۳ باب ۲۱ آیت کښی راغلی دی «ضرور آسمان تر هغه پوری هغه عهد له ځان سره ساتی، چه هغه ګرد (تول) شیان چه ذکر ئی الله د خپلو پاکو انبیاؤ په ژبو سره له اول څخه کړی دی پخپل حالت باندی راشی. ځکه چه موسیٰ زمونږ پلرونو او نیکونو ته وویل الله چه ستاسی الله دی تاسی ته به ستاسی له ورونو څخه لکه ما غوندی یو نبی درولیږی

هر هغه شي چه دی تاسی ته ووائی، هغه گرد (تول) ومنئ!»

أَفَغَيْرَ دِينِ اللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُ أَسْلَمَ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ طَوْعًا

آیا نو غیر له دین د الله ځنی غواړی (دوی بل دین) حال دا چه (خاص) الله ته غاړه ایښی ده هر هغه چه په آسمانونو کښی دی (له علویاتو) او په ځمکه کښی دی (له سفلیاتو سره له آسمانونو او ځمکو) په خوښه یا په زوره.

**تفسیر:** یعنی تل تر تله د الله جل جلاله دین اسلام دی، چه د هغه معنی حکم منل او غاړه ایښودل دی. مطلب ئې دا دی هر کله چه د حق تعالیٰ کوم حکم د صادق القول رښتین رسول په وسیله تاسی ته در ورسیږی د هغه په مقابل کښی غاړه کیږدئ! نو اوس کوم احکام او هدایات چه سید المرسلین خاتم النبیین محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم راوړی دی هغه هم د الله تعالیٰ دین دی. آیا تاسی هغه پریږدئ؟ او د نجات، او فلاح بله کومه لاره لټوئ؟ ښه وپوهیږئ چه د الله جل جلاله د دین له پریښودلو څخه وروسته بیا ابدی نجات او حقیقی کامیابی هیڅیری نه موندله کیږی. بنیادم ته نه ښائی چه پخپل شوق، مینه، رغبت او خوښی سره د هغه پاک الله له احکامو څخه غاړه وغړوی چه د هغه د تکوینی حکم لاندی آسمان او ځمکه او گرد (تول) موجودات دی او د هغه په اثر موجود شوی دی. عام له دی نه چه هغه تکوینی حکم د مخلوقاتو په اراده او خوښی سره وی لکه د پرښتو او فرمان منونکو بندگانو په اطاعت کښی یا په مجبوری او ناچاری سره وی لکه د دنیا په ذره ذره کښی د هغو آثارو او حوادثو ظهور چه د هغوی وقوع او ظهور د مخلوق له مشیت او ارادی ځنی پرته (علاوه) وی او یوازی د پاک الله د احکامو او مشیت او ارادو تابع وی.

وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ﴿٨٣﴾

او بیا (خاص) هم دی ته بیرته بیولی کیږی (دا تول خلق د مجازاتو له پاره نو ښائی چه تول، هدایت او اسلام ځانته غوره کړی.)

**تفسیر:** د گردو (تولو) پومبنیو او وروستنیو ورتگ د همغه پاک الله په لوری دی، نو عقلمن ته ښائی چه له پخوا څخه خپل ځان تیار کړی! او تل د الله تعالیٰ په اطاعت او عبادت کښی مصروف اوسی!، که نه په آخرت کښی به بی مخه، مایوسه، شرمنده او تیت سترگی وی.

قُلْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا وَمَآ اُنْزِلَ عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ وَ اِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطِ وَمَآ اُوْتِيَ مُوْسٰى وَ عِيْسٰى وَالنَّبِيُّوْنَ مِنْ رَّبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ وَنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿۸۴﴾

ووايه (اى محمده ! كتابيانو ته چه) ايمان راوړى دى مونږ په الله او په هغه كتاب چه نازل كړى شوى دى پر مونږ (چه قرآن دى) او پر هغو (لسو صحيفو) چه نازلى كړى شوى دى پر ابراهيم او (پر) اسمٰعيل او (پر) اسحٰق او (پر) يعقوب او (پر) اولاده «د دوى» باندى او (پر) هغو چه وركړى شوى دى موسىٰ ته (چه تورات دى) او عيسىٰ ته (چه انجيل دى) او نورو انبياؤ ته (چه نور آيتونه دى) له (جانبه د) رب د دوى (حال دا چه) نه كوو فرق په منځ د هيڅ يوه د دوى (په نبوت او نه نبوت كښى او داسى نه كوو چه ځينى به منو او ځينى به نه منو) او مونږ (خاص) الله ته غاړه ايښودونكى يو.

**تفسير:** يعنى هر هغه څه چه په هره زمانه كښى د الله تعالىٰ له جانبه نازل شوى يا كوم رسول ته وركړى شوى دى مونږ هغه ګرد (تول) بلا تفريق منو. دا خبره د يوه حكم منونكى مسلم له وصف او شان ځنى لرى ده چه لكه كتابيان ځينى رسولان ومنى او ځينى ونه منى. ګواكى په آخر كښى ئى د ﴿ وَنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴾ له ويلو څخه د اسلام حقيقت راوښود او خبر ئى راكړ چه اسلام د هيڅ يوه حقانى رسول او د هيڅ يو آسمانى كتاب تكذيب نه كوى بلكه ګرد (تول) شرعى احكام په دير محبت او اهتمام سره قبلوى. او د اسلام په نزد څرنګه چه د لوى قرآن او د عربى نبى عليه السلام نه منل كفر دى هم داسى له بل كوم نبى عليه السلام او آسمانى كتاب ځنى انكار كول هم كفر دى. بيشكه د نبى آخر الزمان صلى الله عليه وسلم شان ښائى چه هم داسى وى چه دى د ګردو (تولو) پخوانيو كتابونو او رسولانو مصدق شى او په دى ډول(طريقه) سره هغو ګردو (تولو) اقوامو ته چه د دوى له پاره محلى او مقامى (نذير) او (هادى) راغلى ؤ د جمعية الكبرىٰ تر لوئى جندى لاندى د جمع كيدلو لاره وروښئى.

**تنبيه:** هم داسى يو مضمون په اول جزء د «البقرة» په (۱۳۶) آيت ۱۶ ركوع كښى تير شوى دى ښائى چه دلته دى هم له همغه څخه استفاده وشى.

وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ ۚ

او هر څوک چه غواړی غیر له اسلامه (چه توحید او د الله احکامو ته انقیاد دی) بل دین نو له سره به ونه منه شی له ده نه،

**تفسیر:** یعنی هر کله چه د الله جل جلاله دین «اسلام» پخپل مکمل صورت سره راورسید نو وروسته له هغه څوک کوم د دروغو یا نامکمل دین نشی منلی. د لمر د راختلو څخه وروسته د تیلی دیوی یا ګیس لګول یا د بریښنا او د ستوری د رنا لټول خوشی چتی (بیکاره) کار او ناپوهی ده. د محلی نبیانو د هدایت رنا تیره شوه. اوس له ګردو (تولو) څخنی لوی او وروستنی او عالمګیر نبوت او هدایت څخه رنا اخیستل په کار دی. چه هم دا د ګردو (تولو) رناګانو مخزن، او په دی کښی ګردی (تولی) پخوانی رناوی مدغم شوی دی.،

فانک شمس فضل هم کواکبه اذا طلعت لم یبد منهن کوکب

وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿٨٥﴾

حال دا چه وی به دی په آخرت کښی له زیانکارانو (چه د اسلام د پریښودلو په سبب به تل په دوزخ کښی پاتی کیږی).

**تفسیر:** یعنی له ثواب او بری څخنی بیخی بی برخی پاتی دی ـ له دی څخنی به بله لویه خساره څه وی چه خپله پانګه (سرمایه) او رأس المال ئی له لاسه ووت او هغه صحیح فطرت ئی چه الله تعالیٰ پری پیدا کړی ؤ په خپل ناوړه (ناکاره) اختیار او غلط کارئ تباه او خراب کړ.

كَيْفَ يَهْدِي اللّٰهُ قَوْمًا كَفَرُوْا بَعْدَ إِيْمَانِهِمْ وَشَهِدُوْٓا أَنَّ الرَّسُوْلَ حَقٌّ وَّجَآءَهُمُ الْبَيِّنٰتُ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٨٦﴾

څرنګه به سمه صافه لاره ښئی الله (بلکه نه ښئی هغه) قوم ته چه کافران شوی دی وروسته له ایمان راوړلو د دوی حال دا چه شاهدی ورکړی ده دوی په دی چه بیشکه رسول حق دی او راغلی دی دوی ته معجزی ښکاره، او الله نه کوی هدایت (نه ښئی سمه صافه لاره) قوم ظالمانو ته (چه اسلام په کفر بدلوی).

**تفسیر:** یعنی هغه کسان چه د حق له ښکاره کیدو څخه وروسته سره له پوهی کفر اختیار کړ یعنی په زړه کښی یقین لری او په سترګو ئی ګوری بلکه پخپلو خاصو مرکو (جرګو) کښی

اقرار کوی چه دا رسول رښتین دی د ده د حقانیت او صداقت روښانه دلیلونه، ښکاره علامی او څرګند زیری دوی ته رسیدلی دی، خو سره له هغه هم کبر، حسد، حب جاه او مال او نور د اسلام له منلو څخنی د دوی مخه نیسی. او د کفر او عدوان له پریښودلو څخه مانع کیږی. لکه چه د یهودیانو او نصرانیانو هم دا حال ؤ. له هسی معاندینو څخنی چه سر زوری او ضدیت لری څه توقع او هیله (امید) کیدی شی چه سره له هسی روئی به دوی ته د الله تعالیٰ له خوا نجات او فلاح ور په برخه کیږی؟ او دوی به په هسی لاره باندی بیائی چه دی تری خوښ او دوی جنت ته ورسوی؟ پاک الله داسی عادت نه لری چه هسی بی انصافو او متعصبو ظالمانو ته د حقیقی بری لاره ور وښئی په دی باندی هغه بد بختان قیاس کړئ چه د قلبی معرفت او د یقین له درجی څخه پورته یو ځلی مسلمانان هم شوی وو بیا د دنیوی اغراضو او شیطانی اغواؤ له امله (وجی) مرتدان شول ـ دوی له هغو پخوانیو څخنی زیات کاږه تلونکی او بی حیا دی، نو ځکه له هغوی څخنی د زیات لعنت او عقوبت مستحق دی.

---

أُولَٰئِكَ جَزَاؤُهُمْ أَنَّ عَلَيْهِمْ لَعْنَةَ اللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴿٨٧﴾

---

دغه کسان جزا د دوی دا ده چه بیشکه پر دوی دی لعنت د الله (چه لری کوی دوی له رحمت خپل) او (لعنت) د پرښتو (چه بیزاره دی له دوی نه) او (لعنت) د خلقو (چه بد ورته وائی) د تولو (مخلوقاتو چه د هغو لعنت ته اهمیت ورکاوه شی)

---

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ، پرښتی، او مسلمانان ګرد (تول) لعنت پری وائی، بلکه هر انسان حتیٰ پخپله دغه ملعونان هم پر خپل ځان باندی لعنت وائی. یعنی کوم وخت چه دوی داسی وائی «پر ظالمانو او دروغ ویونکو باندی دی د الله لعنت وی!» اګر که دوی به هغه وخت کښی په دی باندی نه پوهیږی، چه دا لعنت پخپله پر دوی باندی هم واقع کیږی.

---

خَالِدِينَ فِيهَا

---

حال دا چه تل به وی دوی په دغه (لعنت یا اور یا عقوبت) کښی،

---

**تفسیر:** د دی لعنت اثر به تل تر تله پاتی کیږی، په دنیا کښی به پر دوی باندی لعنت او په آخرت کښی به د الله تعالیٰ قهر وی.

---

لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ ﴿٨٨﴾

نه به سپکاوه شي له دوی څخه عذاب (د دوزخ) او نه به دوی ته مهلت ورکړ شي (د توبې، یا به نه کتلی کیږي دوی ته په رحمت سره).

**تفسیر:** یعنې دوی هیڅکله د عذاب د شدت لړوالی نه حس کوي، او نه تخفیف وررسیږي، او نه ئې د لږ څه وخت له پاره عذاب معطل، او نه به دوی آرام او هوسا (خوشاله) کیږي.

إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُوا۟ مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ وَأَصْلَحُوا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٨٩﴾

مګر هغه کسان چه توبه ئې وښکله (بیرته اسلام ته راوګرځیدل) وروسته له دې (ارتداده) او نیک کړ (عملونه خپل) نو بیشکه الله ښه مغفرت کوونکی (د خطیاتو) ډیر رحم والا دی (په اکرام د اجر او ثواب سره).

**تفسیر:** یعنې داسې سختو بې حیاؤ مجرمانو او خورا (ډیر) لویو یاغیانو ته کوم لوی پاچا معافي ورکولی شي؟ دا خو د همغه «غفور» او «رحیم» دربار دی چه سره له دومره شدیدو جرائمو او لوی یاغیتوبه هم که مجرم له زړه نادم او په رښتیا توبه ګار او پر اسلام باندې ښه قائم او ښه عمل اختیار کړي نو د ده ګردې (ټولې) ګناوې او خطاوې بیخي معافیږي. اللّٰهم اغفر ذنوبنا! و کفر عنا سیأتنا! فانک غفور رحیم.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بَعْدَ إِيمَٰنِهِمْ ثُمَّ ٱزْدَادُوا۟ كُفْرًا لَّن تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ وَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلضَّآلُّونَ ﴿٩٠﴾

بیشکه هغه کسان (له یهودو) چه کافران شوي دي (په انجیل او عیسیٰ) وروسته له ایمان راوړلو د دوی (په تورات او موسیٰ). بیا ئې زیاتوالی وکړ په کفر کښې (په نه منلو د قرآن او محمد) له سره به نه قبلیږي توبه د دوی (چه دوی توبه ونه کړي تر غرغرې پورې) او دغه کسان هم دوی ګمراهان دي.

**تفسیر:** یعنې هغه کسان سره له دې چه په حق پوهیږي او بیا په قصد سره ترې منکران شوي دي او تر آخره پورې په همغه انکار کښې ترقي او پر مخ تګ کوي نه له کفر څخه د مخ ګرځولو نوم کله اخلي او نه د حق او د اهل حق له عداوته څخه لاس نیسي. بلکه حق خوښوونکو سره بحث او مناظره او جنګ جنجال (جګړه) کوي او کله چه د مرګ وخت ورسیږي او پرښته د دوی

سا راکاږي دلته نو د توبې په فکر کښې ولوېږي یا کله د کوم مصلحت له امله (وجې) په ښکاره ډول (طریقه) او په رسمي صورت سره توبه کوي یا په کفر باندې پوره ټینګ ولاړ وي خو له ځینو هغو اعمالو څخه توبه باسي چه دې ئې پخپل زعم سره ګناه ګڼي، نو له دغې توبې څخه هیڅ ګټه نه اخیستله کیږي، او نه د الله جل جلاله په دربار کښې د هغې د منلو امید او انتظار کیږي او داسې خلقو ته په رښتیا سره هسې توبه نه ور په برخه کیږي چه د قبلولو وړ (لائق) وي تل تر تله د دوی کار د ګمراهي په بیدیا (صحرا) او ډګر (میدان) کښې لالهانده (پریشانه) او سرګردان ګرځیدل دي.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَمَاتُوا وَهُمْ كُفَّارٌ فَلَن يُقْبَلَ مِنْ أَحَدِهِم مِّلْءُ الْأَرْضِ ذَهَبًا

بیشکه هغه کسان چه کافران شوي دي او مړه شوي دي حال دا چه دوی کافران دي نو له سره به قبول نشي له یوه د دوی څخه په ډک والي د ځمکې سره زر

تفسیر: یعنې لکه دنیوي حکومتونه هلته د سرو او سپینو زرو په رشوت سره کار نه چلیږي. هلته خو یوازې د ایمان دولت پکار راځي. فرض ئې کړئ! که له یوه کافر سره د سرو زرو دومره لوی لوی امبارونه پراته وي چه له هغو څخه د ګردې (تولې) ځمکې مخ ډک شي او هغه بیخي خیرات کړي نو د الله تعالیٰ په دربار کښې د یوې ذرې په اندازه هم هغه څه ارزښت او اهمیت نه لري او نه په آخرت کښې له داسې اعمالو څخه څه فائده وررسیږي. ځکه چه د عمل روح ایمان دی نو هر عمل چه له ایمان څخه تش وي هغه د مړ عمل په شان ګڼانه کیږي چه د آخرت په ابدي ژوندون کښې هیڅ کار نه تري اخیست کیږي.

وَلَوِ افْتَدَىٰ بِهِ ۗ أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ وَمَا لَهُم مِّن نَّاصِرِينَ ﴿٩١﴾

او اګر که فدیه ورکړي دي په دغه (تول زر) سره، دغه کسان (چه په کفر مړه دي) شته دوی لره عذاب دردناک او نشته دوی لره هیڅ مددګاران (چه مرسته (مدد) ورسره وکړي).

تفسیر: یعنې فرض ئې کړئ که له کافرو سره هلته دومره مال وي او پخپله دي له خپل لوري دا وغواړي چه هغه د فدئې په ډول (طریقه) الله جل جلاله ته وړاندې کړي چه دا له ما څخه واخله!

او ما پربیوده! نو بیا هم دا فدیه تری نه منله کیږی. بی له دی چه په خپله ئی وراندی کړی ځوک ورنه پوښتنه هم نه کوی. الله تعالیٰ (د ٦ جزء د المائدة په ۳٦ آیت ٦ رکوع کښی) هم فرمائی ﴿إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ أَنَّ لَهُم مَّا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا وَمِثْلَهُ مَعَهُ لِيَفْتَدُوا بِهِ مِنْ عَذَابِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَا تُقُبِّلَ مِنْهُمْ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾

لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ ؕ وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ شَيْءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ ﴿٩٢﴾

له سره به ونه مومئ تاسی (پوره) نیکی تر هغه پوری چه صرف کړئ تاسی (په لاره د الله) ځینې له هغو شیانو چه ستاسی خوښ وی. او هغه چه صرفوئ (ئی) تاسی له یوه شی (لږ وی که ډیر) پس بیشکه الله په هغه (هم) ښه عالم دی.

تفسیر: یعنی الله جل جلاله ته معلوم دی چه تاسی څه شی او له کوم ځایه او د څه مقصد له پاره خرڅ کړی دی؟ څومره محبوب او په زړه پوری شیان چه په هره طریقه په اخلاص او ښه نیت سره چه د الله جل جلاله په لاره صرفوئ! سم له هغه سره د الله تعالیٰ له لوری تاسی ته هم هغه بدل درکاوه کیږی چه تاسی ئی هیلمن (امیدوار) یئ! که د اعلیٰ درجی نیکی حاصلول غواړئ نو له خپلو ډیرو محبوبو او ډیر ګرانو شیانو ځنی څه شی د الله تعالیٰ د لاری له پاره وټاکئ! (مقرر کړئ) حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «یعنی هغه شی چه ستاسی په زړونو کښی ډیر خوږ او محبوب وی د هغه صرفول د الله جل جلاله په لاره کښی ډیر اجر او ثواب لری. داسی خو ثواب د هر شی له صرفولو ځنی حاصلیږی خو د محبوب شی اجر عظیم دی. ښائی د یهودانو او نصرانیانو په ذکر کښی دا آیت ځکه نازل شوی وی چه دوی ته حکومت او ریاست ډیر عزیز او ګران ؤ، چه د هغو د ساتلو او له لاسه نه ایستلو له امله(وجی) دوی د نبی علیه السلام نه تابع کیدل نو تر هغه پوری چه دوی له دی حکومت ځنی د الله تعالیٰ له پاره تیر نه شی او هغه خپل ریاست پری نږدی، نو د ایمان پوره درجه نشی موندلی.» د دی آیت مناسبت له پخوانی آیت سره داسی وشو چه هلته ئی د کافر د مال صرفول چتی (فضول) او بیکاره راښوولی ؤ اوس د هغه په مقابل کښی دا راښیی چه هر هغه شی چه مؤمن ئی صرفوی د هغه له صرفولو ځنی ده ته پوره او کامل اجر او نیکی په لاس ورځی.

كُلُّ الطَّعَامِ كَانَ حِلًّا لِّبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اِلَّا مَا حَرَّمَ اِسْرَآءِيْلُ عَلٰى نَفْسِهٖ مِنْ قَبْلِ اَنْ تُنَزَّلَ التَّوْرٰىةُ ؕ

ټول طعام (د خوړلو شیان) وو حلال بنی اسرآئیلو (ځامنو د یعقوب) ته مګر هغه (طعامونه) چه حرام کړی وو اسرآئیل (یعقوب) پر ځان خپل (د اوښانو

له غوښو او شودو) پخوا له هغه چه نازل (لیږل) کیده تورات

**تفسیر :** یهودانو زمونږ (رسول الله صلی الله علیه وسلم) او مسلمانانو ته ویل چه «تاسی خپل ځانونه د ابراهیم علیه السلام د دین تابعان بولئ! حال دا چه تاسی داسی شیان خورئ چه هغه د «الله تعالیٰ» له جانبه په ابراهیم علیه السلام او د ده په کورنی حرام شوی ؤ لکه د اوښی شودی او غوښی» الله جل جلاله فرمائی تول هغه شیان چه اوس ئی خلق خوری د ابراهیم علیه السلام په وخت کښی هم حلال ؤ او د «تورات» له نزوله پخوا نه وو حرام شوی هو! په «تورات» کښی ځینی شیان په خاص دول (طریقه) سره پر بنی اسرائیلو باندی حرام شول مگر د اوښ له غوښی ځنی پخوا د «تورات» له نزوله حضرت اسرآئیل (یعقوب) علیه السلام قسم کری ؤ چه د ده په پیروی گردی (تولی) اولادی ئی د اوښ د غوښی د خوړلو ځنی ځانونه وساتل. د دی قسم یادولو سبب داسی ؤ چه (یعقوب) ته د «عرق النساء» ناروغی وریښه شوی وه نو ده په خپل ځان باندی داسی یو نذر واخیست که زه له دی ناروغی ځنی جوړ شم نو د هر هغه شی له خوړلو څخه به چه ماته محبوب او په زړه پوری وی ځان ساتم او ده ته هم دا (د اوښ غوښه او شودی) دیری محبوب او په زړه پوری وی چه هغه ئی له روغتیا وروسته د دی نذر د پوره کولو له امله(وجی) پریښودی. داسی نذر چه د حلال شی په تحریم باندی مشتمل وی زمونږ د مسلمانانو په شریعت کښی روا نه دی.

کما قال الله تعالیٰ فی الرکوع الاول من سورة التحریم ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكَ ﴾

او که څوک داسی کوم نذر پخپل ځان باندی ومنی نو ښائی چه مات ئی کری! او کفاره ئی ادا کری

**تنبیه :** په رومبنی آیت کښی د محبوبو شیانو د صرفولو ذکر د الله تعالیٰ په لاره کښی ؤ او په دی آیت کښی د یعقوب علیه السلام د یوه محبوب شی د پریښودلو ذکر دی او په دی طریقه د دی دواړو آیتونو په منځ کښی یو لطیف مناسبت شته او هم په دی آیتونو کښی داسی تنبیه ورکری شوی ده چه په پخوانیو شرائعو کښی هم منسوخیت واقع شوی دی او یو شی چه په یوه زمانه کښی حلال ؤ بیا وروسته حرام شوی دی. هم داسی که اوس د محمدی شریعت او پخوانیو شرائعو په منځ کښی د حلالو او حرامو په اعتبار څه تفاوت وی نو نه ښائی چه د هغه په نسبت څه انکار او استبعاد وکری شی.

قُلْ فَأْتُوا۟ بِٱلتَّوْرَىٰةِ فَٱتْلُوهَآ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٩٣﴾

ووایه (ای محمده! یهودانو ته) نو راوړئ تاسی (صحیح) تورات پس وئی لولئ تاسی (د خپل صدق له پاره) که یئ تاسی صادقان (رښتینی. نو شرمنده شول او وربښکاره ئی نه کړ)

**تفسير :** يعني كه تاسي (رښتين يئ چه دا شيان د ابراهيم عليه السلام په وخت كښي حرام وو نو راشئ! او دا حكم پخپل منلي كتاب (صحيح تورات) كښي راښكاره كړئ! كه په هغه كښي مو راونه ښوده نو په دى خبره كښي د هيڅ شك او شبهي ځاى نشته چه تاسي كاذبان او مفتريان يئ! په روايتونو كښي راغلي دى چه يهودان د دى زورور اعلان او بلني استقبال ته حاضر نه شول او په دى طريقه سره زمونږ د (نبي صلى الله عليه وسلم) په صداقت باندى يو بل دليل هم قائم شو.

---

فَمَنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ مِنْ بَعْدِ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ ﴿٩٤﴾

---

(نو فرمائى الله) پس هر چا چه وتړل په الله دروغ وروسته له هغه (چه د حرمت، حجت او جهت ئى ښكاره شو.) پس دغه كسان (چه حق پريږدى او باطل خوښوى) هم دوى دى ظالمان.

---

**تفسير :** يعني دا به لويه بى انصافي وى كه د دى حجت له ظهوره مو وروسته بيا هم تاسي په هم دى باندى تينګ اوسئ او وايئ چه دا شيان د ابراهيم عليه السلام له زمانى راهيسى حرام دى او مونږ د ابراهيمى دين اصلي پيروان يو.

---

قُلْ صَدَقَ اللَّهُ ۗ فَاتَّبِعُوا مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿٩٥﴾

---

ووايه (اى محمده! دوى ته) رښتيا فرمايلي دى الله (په دى تحليل او تحريم كښي هم) نو متابعت وكړئ تاسي د دين د ابراهيم چه حنيف ؤ (په يوه لورى ؤ يعني له هر باطله حق ته مائل ؤ) او نه ؤ دى له مشركانو

---

**تفسير :** يعني الله تعالىٰ د حلالو او حرامو په نسبت او هم د حضرت محمد مصطفىٰ صلى الله عليه وسلم او د اسلام په باب كښي هسي صافي صافي او رښتيا رښتيا خبرى آورولي دى چه هغه هيڅوك دروغولي نشي. اوس ښائى چه تاسي هم د مسلمانانو په شان د ابراهيم عليه السلام د

اصلی دین تابعان شئ! او د ابراهیمی اصولو متابعت وکړئ! چه په هغه کښې دیر لوی شی خالص توحید ؤ. او د عزیر علیه السلام، مسیح علیه السلام، احبارو (علماء) او رهبانانو (پیرانو) عبادت پریږدئ! او پاخه موحدان مسلمانان شئ!

---

إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ

---

بیشکه ړومبنی کوته (بیت الله) چه جوړه شوی ده (له ګردو (تولو) نه پخوا د عبادت له پاره) خلقو ته خامخا (هغه کوته) هم دا ده چه مکه کښې ده.

---

**تفسیر :** د مسلمانانو په دی دعویٰ باندی چه «مونږ له ګردو (تولو) امتونو ځنی زیات ابراهیم علیه السلام ته ورنژدی او شبیه یو» یهودانو داسی اعتراض کاوه چه ابراهیم علیه السلام خپل اصلی وطن (عراق) پریښود او (شام) ته ئی هجرت وکړ. او په شام کښې ئی استوګنه کوله او هملته وفات شو وروسته له هغه د ده اولاده هم په (شام) کښې پاتی شول او دیر انبیاء علیهم السلام په هم دی مقدسه ځمکه کښې مبعوث شول او د دوی د ګردو (تولو) قبله (بیت المقدس) وه نو بیا تاسی د (حجاز) اوسیدونکی چه (بیت المقدس) موپریښی (اوکعبه) موخپله قبله تاکلی (مقرره‌کړی) ده اوله (شام) څخه لری په یوه ګوټ (کنج) کښې پراته یئ، په کومه خوله داسی دعوی کولی شئ چه «ابراهیم علیه السلام او د ده ملت له مونږ سره دیر مقاربت او مناسبت‌لری.» په دی آیت کښې معترضینو ته دا خبره ورښوولی شوی ده چه (بیت المقدس) او نور مقدسه مقامات خو وروسته ودان شوی دی په دنیا کښې له ګردو (تولو) ځنی ړومبی متبرکه خونه (کور) چه الله تعالیٰ ته د تولو خلقو د توجه د ګرځولو له پاره آباده شوی، او د یوه معبد او زیارت ځای او د هدایت د علامو (نښو) په شان درولی شوی ده هغه هم دا کعبه شریفه ده چه (د مکی معظمی) په مبارک ښار کښې پرته ده.

---

مُبَارَكًا وَهُدًى لِّلْعَالَمِينَ ﴿٩٦﴾ فِيهِ آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ مَّقَامُ إِبْرَاهِيمَ ۖ وَمَن دَخَلَهُ كَانَ آمِنًا ۗ

---

حال دا چه برکت ناکه او لاره ښوونکی ده خلقو ته (د جنت) (شته) په دی کوته کښې آثار ښکاره (ځینی ئی) مقام د ابراهیم دی، او هر څوک چه ننووت په دی (کعبه) کښې نو شی به په امان کښې.

---

**تفسیر :** حق تعالیٰ له ابتداء څخه (بیت الله شریف) په ظاهری او باطنی، حسی او معنوی برکاتو سره معمور کړی دی او د ګرد (تول) جهان د هدایت سرچینه ئی ګرځولی ده. د ځمکی

په مخ په هر ځای کښې چه برکت او هدایت لیده کیږی ګواکی هغه د هم دی مبارکی کوټی یو انعکاس او رڼائی ده. په هم دی ځای کښې زمونږ رسول الثقلین صلی الله علیه وسلم مبعوث شوی دی، او هم دی ځای ته د (حج) د مناسکو د اداء کولو له پاره د جهان ګرد (ټول) انسانان ور دعوت شوی دی. د اسلام د جهان نیوونکی دین تابعان په مشرق او مغرب، شمال او جنوب کښې مامور دی چه د هم دی (بیت الله شریف) په لوری خپل مخونه وګرځوی او لمونځونه اداء کړی، د دی په طواف کوونکو باندی د برکاتو او انوارو عجیب او غریب افاضات اوری پخوانی انبیاء علیهم السلام هم د حج د اداء کولو دپاره په ډیر شوق او ذوق سره تلبیه ویونکی له هم دی شمعی پروانه کیدل او د خپل قدرت قسم قسم ظاهری او باهری آثار ئی د (بیت الله) له برکته په دی پاکه ځمکه کښی ایښی دی. ځکه په هره زمانه کښی د مختلفو مذاهبو خلق د دی خونی (کور) فوق العاده تعظیم او احترام کاوه. او تل تر تله د دی داخلیدونکی مأمون او مصؤن ګڼل کیدل. له دی سره نژدی د ابراهیم علیه السلام د مقام وجود دا راښئی چه دلته د حضرت ابراهیم علیه السلام پل (قدم) هم رسیدلی دی. او د هغه روڼ تاریخ (چه د ګردو (ټولو) عربو په نزد بی له انکاره منلی شوی دی) دا راښیی، چه دا هم هغه تیږه (ګټه) ده چه ابراهیم علیه السلام پری دریده. او د (کعبی شریفی) دیوالونه ئی جوړول پر دغی تیږی (ګټی) باندی د حضرت ابراهیم علیه السلام د قدم اثر ثابت او تر نن ورځی پوری محفوظ پاتی دی. ګواکی برسیره په تاریخی روایتونو د دی مقدسی تیږی (ګټی) وجود په دی خبره باندی یو کلک دلیل دی چه دا کوټه د نوح علیه السلام له طوفان څخه وروسته د حضرت ابراهیم علیه السلام په پاکو لاسونو سره ودانه شوی ده، او د ده د مرستی (مدد) له پاره حضرت اسمٰعیل علیه السلام د کار ملګری ئی ؤ. لکه چه د البقرة ۱۲۷ آیت کښی تیر شو

---

وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا ۚ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ ﴿٩٧﴾

---

او (واجب دی) الله لره پر خلقو حج (قصد کول په نیت د حج) د (دی) بیت (الله دا) دی پر هغه چه قدرت لری طرف د ده ته د لاری، او هر څوک چه کافر شو (وئی نه مانه) نو بیشکه الله بی پروا دی له ټول عالم (یعنی له هر چا او هر شی) نه.

---

**تفسیر :** په دی کوټه کښی د الله تعالیٰ د جمال کومه خاصه تجلی ده، چه د هغی له امله(وجی) د حج د اداء کولو له پاره هغه مخصوصه شوی ده. ځکه چه (حج) داسی یو عبادت دی، چه د هغه هر فعل د هغه مطلق جمیل او حقیقی محبوب عشق او جذبی ښکاروی. نو ضروری ده هر

هغه څوک چه د هغه د محبت دعویٰ کوی او د بدنی او مالی حیثیت له پلوه تر بیت الله پوری د رسیدلو توان لری، لږ تر لږه دی په عمر کښی یو ځلی دغه د محبوب دیار ته ورحاضر شی او د مین په شان دی د هغه په چارچاپیر کښی طواف وکړی! دا مضمون حضرت مولٰنا محمد قاسم قدس الله سره په «قبله نما» کښی په ډیره ښه شرحه او بسط سره لیکلی دی، هغه د محبت مدعی چه له دومره ربړ ګاللو (تیرولو) ځنی هم انکار وکړی، نو وپوهیږه چه هغه دروغجن مین دی، اختیار لری چه دی هر چیری ګرځی او ځان له هسی لوی نعمت څخه محروم او مهجور کوی دا حقیقی محبوب د هیڅا پروا نه لری، که څوک یهود مری یا نصرانی یا بل څه د (پاک الله) به څه خراب کړی. د «حج» د احکامو تفصیلات دی په فقهی کتابونو کښی وکتل شی!

قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لِمَ تَكْفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَٱللَّهُ شَهِيدٌ عَلَىٰ مَا تَعْمَلُونَ ﴿٩٨﴾

ووایه (ای محمده!) ای اهل د کتابونو! ولی کافران (منکران) کیږئ تاسی په آیتونو د الله او الله ښه شاهد دی پر هغو کارونو (هم) چه تاسی ئی کوئ.

**تفسیر:** پخوا له دی نه یهودو او نصاریٰ ۇ سره مخاطبه کیده. د هغی په منځ کښی د ځینو شبهاتو ځواب ورکړی شو، له دی ځایه بیا هم هغو ته تنبیه او توبیخ شروع کیږی. یعنی د حق او صداقت د واضحو دلائلو او د قرآن عظیم د داسی رښتیا او پخو خبرو له اوریدلو څخه وروسته په تاسی باندی څه شوی دی چه سره له کتابیت پرله پسی د کلام الله او د هغه راوړونکی په انکار باندی تینګ ولاړ یئ؟ په یاد ئی ولرئ! چه ستاسی دغه ګردی (تولی) چاری د الله تعالیٰ په مخ کښی پرتی دی او الله جل جلاله ستاسی له نیتونو او تدبیرونو ځنی په ښه شان خبر دی څه وخت چه تاسی ونیسی نو د یوی یوی ذری حساب به له تاسی ځنی آخلی او د هغی جزا او سزا به درکوی.

قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لِمَ تَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ مَنْ ءَامَنَ
تَبْغُونَهَا عِوَجًا وَأَنتُمْ شُهَدَآءُ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٩٩﴾

ووایه (ای محمده!) چه ای اهل د کتابونو! ولی تاسی منع کوئ (اړوئ) له لاری د الله څخه هغه څوک چه ایمان ئی راوړی؟ لټوئ تاسی لاری د الله ته

کوړوالی (عیب) حال دا چه تاسی یئ شاهدان (عالمان په حقانیت د محمدی دین). او نه دی الله بی خبره له هغه شی نه چه تاسو ئی کوئ (نو تاسی ته جزا درکوی).

**تفسیر :** یعنی نه یوازی دا چه تاسی پخپله د ایمان د سعادت له حاصلولو څخه محروم یئ بلکه غواړئ چه نور هم د الله تعالیٰ له لاری څخه ستانه (واپس) کړئ! او هغو بختورو ارواحو ته چه په اسلام سره مشرف شوی دی هغه چه د اسلام په دین کښی پخپل تخمین او فرض سره عیب ګڼئ هغه ورښیئ!، چه له اسلامی دین څخه بیرته واوړی او تاسی دا حرکتونه یوازی د جهل او ناپوهی له امله (وجی) نه کوئ!، بلکه سره له پوهی په قصد سره ئی کوئ! او سمی خبری کږوئ! او تل د هم داسی نامناسبو حرکاتو د جوړولو په فکر کښی مشغول یئ! الله تعالیٰ ستاسی له دی ګدو ودو، او کږو خبرو څخه بی خبره نه دی او په مناسب وخت کښی به د دی ګردو (تولو) خبرو سزاوی یو ځای درکړی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِن تُطِيعُوا۟ فَرِيقًا مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ يَرُدُّوكُم بَعْدَ إِيمَٰنِكُمْ كَٰفِرِينَ ﴿١٠٠﴾

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (ای مؤمنانو!) که تاسی حکم ومنئ د یوه فریق له هغو کسانو چه ورکړی شوی دی دوی ته کتاب نو بیرته به وګرځوی تاسی وروسته له ایمانه ستاسو کافران.

**تفسیر :** اول ئی اهل د کتابونو ته سرزنش (زورنه) ورکړ، چه سره له پوهی تاسی ولی خلق ګمراه کوئ!؟ دلته مسلمانانو ته نصیحت کیږی چه تاسی ولی د دی مفسدانو په دی اشارو باندی فریب خورئ؟ د دوی له دی تیرایستلو څخه ځان وساتئ! که نه دا اندیښنه شته چه ورو ورو به تاسی د ایمان له رڼا (رنړا) څخه باسی او د کفر په توره تیاره کنده کښی به مو سر په څرئ غورزوی.

وَكَيْفَ تَكْفُرُونَ وَأَنتُمْ تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ وَفِيكُمْ رَسُولُهُۥ ۗ وَمَن يَعْتَصِم بِٱللَّهِ فَقَدْ هُدِىَ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿١٠١﴾

او څرنګه به تاسي کافران کیږئ او تاسي چه یئ لوستی شی پر تاسي آیتونه د الله او دی په تاسي کښی رسول د الله، او هر څوک چه منګولی ښخښی کړی (د الله په دین) نو په تحقیق لاره ښودله شوه ده ته په طرف د لاری سمی.

**تفسیر :** یعنی هغه قوم چه د دوی په منځ کښی د انس او جان عظیم الشان پیغمبر صلی الله علیه وسلم تشریف لری او شپه او ورځ د الله تعالیٰ له جانبه دوی ته په زړه پوری خبری آوروی او د هغه روح پالونکی لوی آیتونه او مهم دلائل ښکاروی نو ډیره لری ده چه وروسته له ایمان راوړلو څخه داسی قوم بیا کافر شی او یا د کافرانو په شان کار وکړی په رشتیا سره هر څوک چه له هره جانبه ځان وشکوی او د الله تعالیٰ دین تینګ ونیسی! او پر الله تعالیٰ د زړه له اخلاصه توکل او اعتماد ولری! نو هیڅ یو طاقت او قوت نشی کولی چه هغه د بریالیتوب (کامیابی) د سمی او صافی لاری څخنی دی خوا او هغی خوا ته وخوځوی.

**(فائده) :** د مدینی منوری د انصارو دوو قبیلو اوس او خزرج پخوا له اسلامه پخپلو منځونو کښی سخت عداوت او دښمنی سره درلوده (لرله). په ډیرو وړو وړو خبرو باندی به په داسی سختو جنګونو او وینو تویولو سره نښتل، چه تر کلونو کلونو پوری دا جنګ اوږدیده لکه چه د «بعاث» مشهور جنګ تر(١٢٠) کلونو پوری اوږد شو آخر زمونږ د معظم رسول الله صلی الله علیه وسلم د هجرت په موقع کښی د دوی د قسمت ستوری وځلیدل ـ او د اسلام د تعلیم او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحبت د فیض په اثر دغه دواړه قبیلی پخپل منځ کښی (چه له سلهاؤ کلونو راهیسی دوی یو د بل د وینو ته تږی وی) سره ملی او پخپلو منځونو کښی لکه شودی او شکری شولی او د اخوت او صمیمیت (دوستی) ډیر تینګ تعلقات د دوی په منځ کښی سره قائم شول. د مدینی منوری یهودان د دی دواړو دښمنو او غلیمو قبیلو په دی طریقه مینه او محبت سره ناسته او ولاړه او په متفق طاقت سره د اسلام خدمت او حمایت کولو څخنی، ډیر خپه او غمجن وو، یو ړوند یهودی (شماس بن قیس) یو فتنه اچونکی سړی ولمساوه چه ته په داسی یوی لوئی جرګی کښی چه دا دواړه قبیلی سره پکښی ناستی وی په یو چم (چل) سره د (بعاث) د جنګ خبره وښوروه ! لکه چه هغه فتنه اچونکی یوه مناسبه موقع پیدا کړه او د (بعاث) څو غیرت پاروونکی اشعار ئی ولوستل د دی اشعارو له اوریدلو څخنی سمدلاسه د هغه جنګ د ایرو لاندی سکروټی بیرته تازه او بلی او د دی دواړو قبیلو زړونه ئی جلبل کړل او خبره د خولی له خبرو څخنی تیره او تر تورو او نیزو پوری ورسیده مګر پخوا له دی نه چه وینی توئی شی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د معظمو مهاجرینو له یوی ډلی سره پر موقع باندی ورورسیدل او وی فرمایل «ای د مسلمانانو ډلی! له الله تعالیٰ څخه وویریږئ! زه ستاسی په منځ کښی موجود یم، بیا دا د جاهلیت خبری او بلنی د څه له پاره کیږی؟ الله تعالیٰ تاسی ته هدایت وکړ! او په اسلام ئی مشرف کړئ او د ناپوهی له تیارو څخنی ئی وویستئ نو آیا بیا تاسی د هغو کفریاتو او لغویاتو په لوری ژر بیرته ګرځئ؟ چه له هغو تورو تیارو څخه هم دا اوس د باندی وتلی یئ؟» د رسول

الله صلی الله علیه وسلم د دی د رسالت د مؤثری وینا په اثر د دغه شیطانی جال گردی (تولی) غوتی یو په یو خلاصی شوی (اوس) او (خزرج) دواړو خپلی وسلی وغورځولی، او یو له بله سره ئی په ډیره مینه روغبړ، معانقه او مصافحه وکړله او گرد (تول) سره پوه شول، چه دا تول د دښمنانو له چغلۍ او شیطانۍ ځنی وو چه ښائی مونږ وروسته له دی نه د هغو په مقابل کښی هوښیار او خبردار اوسو! د دی واقعی په نسبت څو آیتونه نازل شوی دی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ ١٠٢

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (ای مؤمنانو!) وویریږئ له الله نه په حق د ویری د ده! او مه مرئ! مگر په دی حال چه یئ تاسی مسلمانان (موحدان).

**تفسیر:** یعنی ستاسی مسلمانانو په زړونو کښی ښائی د الله تعالیٰ پوره ویره وی او سم له خپله توانه د پرهیزگارئ او تقویٰ له لاری لری ولاړ نه شئ! او تل له الله جل جلاله نه د استقامت غوښتونکی اوسئ! شیاطین غواړی چه ستاسی قدمونه د اسلام له لاری ځنی وښویوی. تاسی لره ښائی چه شیطان له خپلو ځانونو څخه مایوس کړئ او تر مرگه پوری هیڅ یو حرکت د مسلمانی په خلاف ونه کړئ! ښائی چه ستاسی مرگ او ژوند د خالص اسلام په اساس (بنیاد) وی!.

وَٱعۡتَصِمُواْ بِحَبۡلِ ٱللَّهِ جَمِيعٗا وَلَا تَفَرَّقُواْۚ

او منگولی ولگوئ (ای مؤمنانو!) په رسئ د الله (چه قرآن دی) تول او مه سره مختلف کیږئ (وروسته له اسلامه).

**تفسیر :** یعنی گرد (تول) سره یو شئ! او د پاک قرآن احکام تینگ ونیسئ! چه د پاک الله کلکه رسئ ده. دا رسئ هیڅ شکیدونکی نه ده. هو! له لاسه خوشی کیدونکی ده. که تاسی گرد (تول) سره یو شئ! او هغه په پوره قوت سره تینگه ونیسئ! نو هیڅ یو شیطان به په شر او فتنه اچولو کښی بریالی (کامیاب) نشی او د انفرادی ژوندون په طریقه، د مسلمان قوم اجتماعی قوت به هم غیر متزلزل او غیر قابل اختلال شی په قرآن عظیم باندی تمسک کول هغه شی دی، چه گرد (تول) تیت پیت (خواره واره) قوتونه په هغه سره تولیږی او یو مړ قوم په هغه سره نوی ژوند حاصلولی شی لیکن د «تمسک بالقرآن» مطلب داسی نه دی، چه پاک قرآن د خپل ځان

او د خپلو آراؤ هواؤ او د هوسونو تابع وګرځولی شی. بلکه د لوی قرآن صحیح مطلب هم هغه دی چه د صحیحو احادیثو او د صالحینو اسلافو له متفقو تصریحاتو ځنی مخالف نه وی.

وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَآءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا

او یاد کړئ تاسی (ای مؤمنانو!) نعمت (احسان) د الله پر تاسی کله چه وئ تاسی دښمنان نو الفت (مینه) ئی پیدا کړه په منځ د زړونو ستاسی کښی نو وګرځیدئ تاسی په نعمت (رحمت) د الله سره (اسلامی) وروڼه

**تفسیر:** یعنی د سلهاؤ کلونو عداوتونه او کینی ئی له منځه ورکی کړی. او الله تعالیٰ د خپل محبوب رسول الله صلی الله علیه وسلم په برکت تاسی اسلامی خواږه وروڼه سره وګرځولئ چه د هغه په اثر ستاسی دین او دنیا سم شول. او ستاسی داسی پت او اعتبار پیدا شو چه د هغه له لیدلو څخه غلیمان ویریږی، دغه «اخوت» او «اتحاد» د الله جل جلاله دومره یو لوی نعمت دی چه د ځمکی د مخ د ګردو (ټولو) خزائنو په مصرف سره هم چاته په لاس نه ورځی.

وَكُنْتُمْ عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنْقَذَكُمْ مِّنْهَا

او وئ تاسی په غاړه د کندی له اوره (د دوزخ په سبب د ګمراهی او کفر) نو خلاص ئی کړئ تاسی له هغه (اوره په اسلام سره)،

**تفسیر :** د کفر او عصیان له امله (وجی) تاسی بیخی د دوزخ په غاړه کښی ولاړ وئ چه د موت له راتللو سره به سم د لاسه په هغه کښی لویدئ! الله تعالیٰ ستاسی لاس ونیو. او تاسی ئی له هغه ځنی وژغورلئ (محفوظ ئ کړلی) او د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په وسیله ئی د ایمان او ایقان رڼا (رنړا) ستاسی په زړونو کښی واچوله که د الله تعالیٰ دا دینی او دنیوی عظیم الشان احسانونه په یاد ولرئ! نو هیڅکله به د ګمراهی په طرف بیرته ونه ګرځئ!

كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٠٣﴾

هم داسی (لکه چه د اتفاق مفاد او د نفاق ضرر ئی بیان کړل) بیانوی الله

تاسی ته دلائل (د قدرت) خپل له پاره د دی چه تاسی په سمه صافه لاره ثبات او دوام ومومئ!.

**تفسير :** يعنی د دی خبرو له داسی ښكاره او صاف ويلو ځنی دا مقصود دی چه تاسی تل په سمه او صافه لاره باندی لاړ شئ ! او د هسی مهلكو او خطر لرونكو غلطيو بيا اعاده ونه كړئ! او د هيڅ شيطان په اغواء سره د استقامت لاره پری نه بږدئ!.

وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ أُمَّةٌ يَّدْعُوْنَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿١٠٤﴾

او وی دی (تل) له تاسی يوه ډله چه بولی (خلق) په طرف د خير (اسلام) او امر (حكم) كوی (خلقو ته) په معروف (نيكی) سره او منعه كوی «(خلق» له منكر (بدی) نه او دغه (آمرين بالمعروف ناهين عن المنكر) هم دوی دی په مراد رسيدلی.

**تفسير:** يعنی تقوىٰ، اعتصام بحبل الله، اتحاد، اتفاق، اسلامی مؤاخات (هم رنگی) او ملی ژوندون، دا تول هلته باقی پاتی كيدی شی چه په مسلمانانو كښی يوه ډله خاص د دعوت او ارشاد له پاره وی او د دی ډلی وظيفه هم دا وی چه د خپل قول او عمل په وسيله د دنيا اهل د قرآن او سنت په لوری وبولی او كله چه خلق په ښو كارونو سست يا په خرابو كارونو كښی اخته ووينی نو دوی د نيكی په لوری وبولی او متوجه ئی كړی او له بدو كارونو ځنی ئی وژغوروی (وساتی) او په دی كار كښی د خپل توان او قدرت په اندازه كوتاهی ونه كړی! ښكاره ده چه دا كار هم هغه كسان كولی شی چه د معروف او منكر په علم باندی خبر وی او د قرآن او سنت له پوهی سره، هښيار، ذكی، موقع پيژندونكی هم وی، كه نه امكان لری چه يو جاهل سړی به معروف منكر او منكر، معروف وګنی او د اصلاح په ځای به ګرد (تول) نظام خراب او مختل كړی يا به د يوه منكر اصلاح داسی كوی، چه له هغه څخه نور ډير منكرات پيدا كيږی، يا د نرمی په ځای كښی به سختی او د سختی په ځای كښی به نرمی كوی ښائی له هم دی امله (وجی) له مسلمانانو ځنی يو مخصوص جماعت د هم دی كار له پاره مامور كړی شوی وی، چه له هر پلوه دوی د «دعوت الی الخير» او «امر بالمعروف» «نهی عن المنكر» وړ او لايق وی. په نبوی حديث كښی راغلی دی «كله چه خلق په منكراتو كښی اخته شی او هيڅوک نه وی چه دوی له هغو څخه وژغوری (وساتی)، نو د عمومی عذاب د راتګ انديښنه شته.» پاتی شوه دا خبره چه په كومو وختونو او احوالو كښی سړی د «امر بالمعروف او نهی عن المنكر» له تركه

معنور وګانه شي؟ او په کومو مواقعو کښي واجب یا مستحب دی؟ د دی خبری د تفصیل دا ځای نه دی. ابوبکر رازی رحمة الله علیه په «احکام القرآن» کښي د دی موضوع په نسبت ډیره مبسوطه وینا کړی ده ـ فلیراجع.

وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ ۚ وَأُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٠٥﴾

او مه کیږئ تاسی په شان د هغو کسانو چه سره جلا (جدا) شول او اختلاف (جګړی) ئی وکړی د دین په اصولو کښي وروسته له هغه چه راغلی ؤ دوی ته دلائل ښکاره (د اسلام د حقیقت) او دا (متفرقان مختلفان مقرر دی) دوی ته عذاب ـ ډیر لوی (د دوزخ)

**تفسیر :** یعنی لکه یهودانو او نصرانیانو غوندی مه کیږئ چه د الله تعالیٰ د صافو او ښکاره ؤ احکامو له رسیدلو څخه وروسته بیا هم په تشو اوهامو او هوسونو پسی ولویدل او د شرعی په اصولو کښي سره متفرق او په فروعو کښي سره مختلف او جلا جلا (جدا جدا) شول، په پای (اخر) کښي ګوند (پارټی) او ګوند بازی (پارټی بازی) د دوی مذهب او قومیت وران او ویجاړ او تباه کړ او ګرد (ټول) سره د الله تعالیٰ په عذاب بیل بیل ککړ شول.

**تنبیه :** له دی آیت څخه د هغو اختلافاتو او ډلی ډلی کیدلو مذمومیت او تباهی معلومه شوه چه د شریعت د صافو احکامو له خبریدلو څخه وروسته پیدا شي. د افسوس ځای دی چه د نننیو مسلمانانو په منځ کښي په سلهاؤ ګوندونه (ډلی) د اسلامی شریعت له ښکاره ؤ صریحو، مسلمو او ټینګو اصولو څخه جلا (جدا) شوی دی او د دوی په منځ کښي اختلافونه اچول شوی دی، او د دی اختلاف او انشقاق عاملین د هم دی عذاب لاندی راغلی دی. بیا هم د شکر ځای دی چه د دی بی تمیزی په طوفان کښي د الله تعالیٰ او د ده د رسول صلی الله علیه وسلم له وعدی سره سم یو عظیم الشان جماعت د پاک الله دا رسۍ ټینګه نیولی ده. او د «**ما انا علیه و اصحابی**» په مسلک باندی قائم دی. (الحمد لله!) او د قیامت تر ورځی پوری به قائم وی. پاتی شول هغه فرعی اختلافونه چه د لویو اصحابو رضی الله تعالیٰ عنه او د مجتهدینو آئمه ؤ په منځ کښي شته، هغه له دی آیت سره هیڅ تعلق نه لری. د دی فرعی اختلافونو پر اسبابو باندی حضرت شاه ولی الله رحمة الله علیه په خپلو تصانیفو کښي کافی او شافی بحث کړی دی.

يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ ۚ

په هغه ورځ چه سپین به شي (ځینې) مخونه (د مؤمنانو) او تور به شي (ځینې) مخونه (د کافرانو)

**تفسیر** : یعنی د ځینو په څیرو باندې به د ایمان او تقویٰ نور ځلیږي. او عزتمن، موقر خوښ او خوشال به په نظر راځي. د دې په خلاف د ځینو مخونه به د کفر، نفاق، فسق او فجور په توروالي سره تور وي او له صورت ځنې به ئې ذلت او رسوائي له ورا ښکاري ګواکې د دوی ظاهر صورت به د دوی د باطن هنداره (آئینه) وي.

فَأَمَّا الَّذِينَ اسْوَدَّتْ وُجُوهُهُمْ أَكَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ

پس هر څه هغه کسان چه تور شوي دي مخونه د دوی (نو ویه ویل شي دوی ته) آیا کافران شوي یئ تاسي وروسته له ایمان راوړلو ستاسي؟

**تفسیر** : د دې الفاظو اطلاق پر مرتدانو، منافقانو، کتابیانو او عامو کافرانو یا پر ګردو (تولو) مبتدعینو، فساقو او فجارو باندې کیږي.

«مرتد» هغه ته وایه کیږي چه وروسته له ایمان راوړلو ځنې بیا کافر شي.

«منافق» هغه دی چه په ژبه سره اقرار کوي خو په زړه کښې تری انکار لري او کافر وي.

«کتابي» پخپلو انبیاؤ او کتابونو باندې د ایمان لرلو مدعي وي چه د دې مطلب داسي کیږي چه دوی هغه ګرد (تول) زیرې چه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په نسبت ورکړې شوي دي ومنې او سم له هغو هدایاتو سره زمونږ پر رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې ایمان راوړي. مګر دوی په خپل انکار کښې له ګردو (تولو) ځنې په مخ لاړل ګواکې دوی وروسته له ایمان راوړلو پر خپل کتاب او نبي باندې بیا کافریږي.

«مبتدع» هغه دی چه تش په خوله دعویٰ کوي چه مونږ د قرآن شریف او سنت تابعان یو او پر نبي کریم صلی الله علیه وسلم باندې مو ایمان راوړی دی مګر وروسته له هغه ډیر بې اصله او باطل شیان په دین کښې شاملوي یا د دین له ځینو ضروریاتو ځنې انکار کوي. او له اصلي دین څخه د باندې وځي هم دا طریقه دوی هم تر یوې درجې په ﴿أَكَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ﴾ سره مخاطب کیږي. پاتې شول «فساق» چه د هغوی عقیده صحیحه وي که دغه خطاب هغوی ته وي نو مطلب به ئې داسي وي چه د ایمان له راوړلو ځنې وروسته دوی خپل عمل د کافرانو په شان ولې وګرځاوه؟ ګواکې له کفر څخه به عملي کفر مراد وي. او که د عامو کفارو په حق کښې دا خطاب ومانه شي نو حاصل ئې دا دی پاک الله ګرد (تول) د فطرت په دین باندې پیدا کړي دي نو تاسي هغه ایماني فطرت ولې ضائع کړی دی؟ او ولې کافران شوي یئ؟ نور د آیت له ښکاره سیاقه رامعلومیږي چه دلته له کفره فعلي کفر، یعنی مذموم اختلاف او تفریق مراد دی.

فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿١٠٦﴾ وَأَمَّا الَّذِينَ ابْيَضَّتْ وُجُوهُهُمْ فَفِي رَحْمَةِ اللَّهِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿١٠٧﴾

نو وڅکئ عذاب په سبب د دی چه وئ تاسی چه کافران کیدلئ. او هر څه هغه کسان چه سپین شوی دی مخونه د دوی نو وی به دوی په رحمت د الله چه دوی به په هغه کښی تل وی (یعنی په جنت کښی).

**تفسیر:** ځکه چه جنت یوازی په عمل سره نه مونده کیږی ـ او سره له عمله د الله تعالیٰ رحمت او فضل هم ورته په کار دی. او جنت هم داسی یو ځای دی چه هلته الله تعالیٰ د هوسائی (قراری) او آرامی او ښه ژوندون هر راز (قسم) اسباب او سامان مهیا کړی دی.

تل کره فکر د عقبیٰ ! فضل غواړه د مولا!

ربړ نشته په جنت کښی! جنت ځای دی د هوسا

تِلْكَ آيَاتُ اللَّهِ نَتْلُوهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ۗ وَمَا اللَّهُ يُرِيدُ ظُلْمًا لِلْعَالَمِينَ ﴿١٠٨﴾

دا (چه تیر شول) آیتونه د الله دی مونږ ئی لولو پر تا باندی (ای محمده !) په حقه سره، او نه دی الله چه اراده به کوی د ظلم له پاره د عالمیانو (د عقاب په زیاتوالی یا د ثواب په لږوالی)

**تفسیر:** په حقیقی معنی سره ظلم هلته له سره ممکن نه دی، مګر په ښکاره طریقه سره هغه شی ته چه تاسی ظلم ویلی شئ د هغه صدور هم د الله تعالیٰ له جانبه نه کیږئ مثلاً داسی سخت احکام بندګانو ته ولیږی چه له هغو ځنی یوازی د دوی ربړول (تکلیفول) مقصود وی یا د رحمت په مستحق باندی عذاب نازل کړی یا د لږی سزا په ځای دیره سزا ورکړی یا د کومی وړوکی نیکی صله ور نه کړی. او نور. ښه وپوهیږئ چه د الله تعالیٰ هر حکم چه دی خالص د بندګانو د تربیت له پاره دی. او هره هغه معامله چه له هر چا سره ئی کوی بیخی له حکمت او مصلحت سره سمه او موافقه ده.

وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۚ وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴿١٠٩﴾

او (خاص) الله لره دی هر هغه څه چه په آسمانونو کښی دی او هر هغه څه

چه په څمکه کښې دی، (سره له اسمانونو، څمکو، مکلفاً خلقاً او عبيداً) او (خاص) الله ته بيرته ګرځول کيږي ګرد (تول) کارونه (نو هر چاته به د دوی له اعمالو سره سمه جزا ورکوی)

---

**تفسير** کله چه هر شی د الله تعالیٰ مملوک او مخلوق دی او د هر کار پای او انجام د ده په قدرت کښې دی نو بيا به ولی او د څه له پاره ظلم او تيری وکړی شی؟

---

## كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ

---

يئ تاسی (ای محمدی امته!) خير (بهتر د هر هغه) امت چه ايستلی شوی دی د پاره د خلقو .

---

**تفسير** : د دی سورت په ۱۰۲ آيت ۱۱ رکوع کښې داسی ذکر شوی دی ﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ ﴾ الآية ـ په دی منځ کښې د هغه تناسب سره څه نور اوامر او نواهی او څه وعد او وعيد هم راغلل. له دی ځايه بيا د هم هغه اول مضمون تکميل کاوه شی. يعنی ای مسلمانانو! الله تعالیٰ تاسی له ګردو (تولو) امتو څخنی افضل او بهتر ګرځولی يئ! د الله تعالیٰ په ازلی علم کښې له پخوا څخه هم دا مقرر او مقدر شوی ؤ چه د هغه خبر ځينو پخوانيو انبياؤ عليهم السلام ته هم ورکړی شوی ؤ څرنګه چه محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم له ګردو (تولو) انبياؤ عليهم السلام څخنی افضل او بهتر دی، د ده امت هم له ګردو (تولو) امتونو او اقوامو څخنی ښه او بهتر دی ځکه چه له ګردو (تولو) څخنی اشرف او اکرم رسول الله صلی الله عليه وسلم د دوی په برخه شوی دی. او ډير زيات پاتی کيدونکی او ښه کامل شريعت ئی په نصيب دی. د علومو او معارفو ورونه به د دوی په مخ کښې پرانيستلی شی، د ايمان، عمل، تقویٰ او انسانيت ګردی (تولی) څانګکی به د دوی له محنت او ځان جارولو (قربانولو) څخنی زرغونی او ودانيږی دوی به د کوم خاص قوم، نسب يا مخصوص ملک او اقليم پوری مخصوص او محصور نه وی بلکه د دوی د عمل دائره به ګرد (تول) عالم او د انسانی ژوندون ګردو (تولو) دائرو او اړخونو (طرفونو) لره نيوونکی او محيطه وی. ګواکی د هم دوی وجود به د دی له پاره وی چه د نورو خير غوښتنه وکړی. او تر څو چه ممکن وی دوی د جنت د دروازو او ورونو پوری راولی او ورننه ئی باسی ﴿ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ ﴾ کښې هم دی لوری ته اشاره ده .

**تنبيه** : د دی آل عمران سورت په ۸۱ آية ۹ رکوع په ﴿ وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ النَّبِيِّينَ ﴾ الآية ـ کښې زمونږ د نبی کريم عليه افضل الصلوٰة والتسليم د کبریٰ امامت او جامعيت بيان شوی ؤ د آل عمران سورت په ۹۶ آيت ۱۰ رکوع کښی په ﴿ إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ ﴾ الآية ـ کښې د ده د امت د قبلی علويت او لوړه مرتبه وښووله شوه د آل عمران

سورت په ۱۰۳ آيت ۱۱ رکوع کښې په ﴿ وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللهِ جَمِيعًا ﴾ الآية ـ کښې ئې د ده د امت د کتاب او د شريعت مضبوطی ښکاره کره اوس دلته د دی آل عمران د سورت په ۱۱۰ آيت ۱۱ رکوع او هم دی مخ له شروع نه د دی مرحومه امت د فضيلت او عظمت اعلان کاوه شی،

تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ

چه حکم کوئ تاسی (هر چاته) په معروف (نيکئ) سره . او منع کوئ تاسی (هر څوک) له منکر (بدئ) څنی

**تفسير:** په «منکر» کښې خراب کارونه لکه کفر، شرک، بدعتونه، قبيحه رسوم، فسق فجور، هر راز (قسم) بداخلاق، او غير معقولی خبری شاملی دی. له دی منکراتو څنی ممانعت هم په ټولو دولونو (طريقو) وی. کله په ژبه، کله په لاسونو، کله په قلم، کله په توره او ټوپک کله په «اکبر جهاد» سره. الغرض هر راز (قسم) جهاد په دی کښې داخل دی. دا صفت په داسی عموميت او اهتمام سره چه په محمدی امت کښې ليده کيږی په پخوانيو امتونو کښې د هغه مثال او نظير نه مونده کيږی.

وَتُؤْمِنُونَ بِاللهِ ؕ

او ايمان لری په الله باندی (په دوام او ثبات سره)،

**تفسير:** په الله جل جلاله باندی په ايمان لرلو کښې د ده پر توحيد، د ده پر رسولانو، د ده پر کتابونو، د ده پر پرښتو او نورو مؤمن به شيانو باندی ايمان لرل هم داخل دی. رښتيا خو دا ده چه د خالص او کامل توحيد شيوع (خورول) او اهتمام په دی اندازه سره چه په الله الحمد په محمدی شريعت کښې شته په نورو امتونو کښې نه ؤ حضرت عمر رضی الله عنه فرمايلی دی. «هر سړی چه له تاسی څنی غواړی چه په دی امت (خير الامم) کښې داخل شی ښائی چه د الله تعالیٰ شرط پوره کړی!» يعنی «امر بالمعروف، نهی عن المنکر» او «ايمان بالله» چه د هغه حاصل پخپله د ځان اصلاح او د نورو اصلاح ده، ځان ته دی غوره کړی، چه د حضراتو صحابه ؤ رضوان الله تعالیٰ عليهم اجمعين له شان څخه دی.

وَلَوْ اٰمَنَ اَهْلُ الْكِتٰبِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ؕ مِنْهُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ وَاَكْثَرُهُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۱۱۰﴾

او که ایمان راوړی وی اهل د کتابونو (په قرآن او محمد نو) خامخا به ؤ (دا ایمان بهتر) خیر دوی لره، ځینی له دوی څخه مؤمنان دی. او زیات د دوی فاسقان دی (نافرمانان متمردان په کفر).

**تفسیر :** یعنی که کتابیانو ایمان راوړی وی نو دوی به هم په دی «خیرالامم» کښی شاملیدل چه د هغه له امله (وجی) به د هغوی عزت په دنیا کښی زیاتیده او په آخرت کښی به ئی دوه مثله اجر مونده ، مګر د افسوس ځای دی چه پرته (علاوه) له څو تنو لکه عبدالله بن سلام یا نجاشی یا نورو بل هیڅا دا حق ونه مانه او سره د حق له وضوحه په هم هغه نافرمانی کښی تینګ ولاړ دی.

لَن يَضُرُّوكُمْ إِلَّآ أَذًى ۖ وَإِن يُقَٰتِلُوكُمْ يُوَلُّوكُمُ ٱلْأَدْبَارَ ثُمَّ لَا يُنصَرُونَ ﴿١١١﴾

له سره به ضرر ونه رسوی تاسی ته (دغه فساق په هیڅ باب کښی) مګر په (لږ) ربړولو (تکلیفولو) (د ژبی) او که جنګ وکړی دوی له تاسی سره نو وبه ګرځوی دوی تاسی ته شاوی (خپلی تیښتی ته) بیا به له دوی سره مرسته (مدد) ونه کړه شی. (بلکه له تاسی سره به د خالق او مخلوق مرستی (مدد) وی).

**تفسیر :** یعنی که زیات کسان نافرمانان دی څه پروا نه لری. نه شائی چه تاسی د دوی له اکثریت څخه یا له ظاهری ساز او سامان څخه وویریږئ. ای محمدی خیر الامه! د الله تعالیٰ وعده له تاسی سره داسی ده چه دا شیطانی لښکر ستاسی هیڅ شی ته ضرر نشی رسولی (مشروط په دی چه تاسی خپل خیر الامم توب ثابت کړئ) بس دوی هم دغومره کولی شی چه په خوله کنځلی درته وکړی او د نامردانو په شان تاسی ته بد ووائی یا په رښتیا او دروغو څه عارضی ربړ او تکلیف در ورسوی. نه چه پر تاسی باندی غالب او مسلط شی یا کوم لوی ملی ضرر او قومی نقص تاسی ته در واړوی دا له سره دوی نشی کولی که په جنګ کښی له تاسی سره مخامخ شی نو شا اړوی او تښتی او له هیڅ لوری هغوی ته مرسته (مدد) نه وررسیږی چه د دوی د هغی ماتی مخه ونیسی. لله الحمد دغه پخوا ویل حرف په حرف ثابت شول. او د لویو اصحابو رضوان الله تعالیٰ علیهم اجمعین په زمانه کښی دا ګردی (تولی) پیښی پر کتابیانو باندی اجرا او تطبیق شوی. کتابیانو د اسلام او مسلمانانو د ناکامی او تباهی له پاره ډیر زیات تکلیفونه وګالل (تیر

کړل) او راز راز (قسم قسم) پلمی (فریبونه) او دسیسی (فتنی) ئی جوړی کړی او زیات زور ئی ولګاوه مګر د مسلمانانو یوه ویښته ته ئی هم څه نقص او ضرر ونه شو رسولی هر چیری چه مقابله وشوه د «حمر مستنفره» په شان تښتیدل او په هر ځای کښی به د الله تعالیٰ نصرت او امداد د هم دغه خیر الامم په نصیب ؤ او دښمنان به د بد حواسی او بیکسی په حال کښی مقهور او مخذول کیدل، هر لوری ته به تښتیدل یا به بندیان کیدل. یا به ئی د تسلیم غاړه کیښوده. یا به جهنم ته رسیدل. فلله الحمد والمنه.

---

## ضُرِبَتۡ عَلَيۡهِمُ الذِّلَّةُ اَيۡنَ مَا ثُقِفُوۡۤا اِلَّا بِحَبۡلٍ مِّنَ اللّٰهِ وَحَبۡلٍ مِّنَ النَّاسِ

---

مقرر کړی شو په دوی باندی ذلت (خواری په سبب د کفران د نعمت) په هر ځای کښی چه وموندلی شی دوی (هیڅ وخت به عزت دوی ته نه وی) مګر (چه منګولی ولګوی) په رسۍ د الله او په رسۍ د خلقو (پناه د مسلمانانو)

---

**تفسیر :** دا آیات د کتابیانو له جملی څخه خاص په یهودانو پوری متعلق ښکاری لکه چه د کلام له سیاقه او د قرآن کریم له نورو آیتونو ځنی ظاهر دی. یعنی پر یهودانو باندی ذلت د تل له پاره مقرر شوی دی. دا کمبختان هر چیری چه وموندل شی، خواری او ذلت به دوی پوری نښتی وی او هیڅ به تری نشی لری کیدی خورا (ډیر) دولتمندان یهودان هم په آزادی او خپل واکی سره د خپل ځان او مال حفاظت نشی کولی. ځکه چه دوی هیچیری د کوم آزاد او مستقل حکومت مالکان نه دی او په ګرده (توله) دنیا کښی بی پته او بی عزته پراته دی او یواځی د ﴿وَحَبۡلٍ مِّنَ النَّاسِ﴾ په وسیله دوی لږ څه هوسائی (ارام) او ژوندون کوی، یعنی (تورات) د ځینو احکامو د تعمیل په وسیله پاتی دی یا په ﴿وَحَبۡلٍ مِّنَ النَّاسِ﴾ ژوند کوی، یعنی د نورو د حمایی تر سیوری لاندی خپلی شپی تیروی. او د هر چا په تابعیت کښی چه دی د هغوی تر سیوری (سوری) لاندی پراته دی (کذا فی الموضح) ځینو مفسرینو له ﴿بِحَبۡلٍ مِّنَ اللّٰهِ﴾ **او له** ﴿وَحَبۡلٍ مِّنَ النَّاسِ﴾ ځنی د الله تعالیٰ ذمه او د مسلمانانو عهد مراد کړی دی. یعنی پرته (علاوه) له دی چه له مسلمانانو سره عهد وکړی او د الله تعالیٰ په ذمه کښی راشی. ځینی وائی چه له ﴿وَحَبۡلٍ مِّنَ النَّاسِ﴾ ځنی اسلام مراد دی. یعنی د اسلام په منلو سره له دی خواری ځنی وتلی شی یا په معاهده سره ځان تری ساتلی شی ځکه چه په معاهده کښی هم د دوی ځان او مال مامون او مصون پاتی کیږی. والله اعلم.

وَبَآءُوْ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الْمَسْكَنَةُ ۭ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ
بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَيَقْتُلُوْنَ الْاَنْۢبِيَاۗءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۭ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ﴿١١٢﴾

او وګرځیدل (اخته شول) دوی په غضب (قهر) له (جانبه د) الله او مقرره کړ شو پر دوی باندی مسکنت (محتاجی) دا (محتاجی او غضب) په سبب د دی دی چه بیشکه دوی وو چه کافران کیدل په آیتونو (احکامو) د الله او وژل به ئی انبیاء (لکه شعیب، یحیٰی، زکریا او نور) په ناحقه سره (پخپل اعتقاد هم)، دا کفر او قتل په هغه سبب ؤ چه سرکښی کوله او وو دوی چه له حدودو به تیریدل (د عصیان په سبب)

**تفسیر :** یعنی په نافرمانی کولو کښی له حده تیر شول، چه د هغه انتهائی اثر دا ؤ چه د الله تعالیٰ له صریحو آیتونو ځنی ئی انکار کاوه، او د معصومو (بیګناهو) انبیاؤ قتل ته تیار شول. هم دغه مضمون د «البقرة» په ٦١ آیت ٧ رکوع کښی تیر شوی دی د هغه فائده دی دلته هم ولوسته شی!.

لَيْسُوْا سَوَاۗءً ۭ مِنْ اَھْلِ الْكِتٰبِ اُمَّةٌ قَاۗىِٕمَةٌ يَّتْلُوْنَ اٰيٰتِ اللّٰهِ اٰنَاۗءَ الَّيْلِ
وَھُمْ يَسْجُدُوْنَ ﴿١١٣﴾ يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَيَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ
وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُسَارِعُوْنَ فِي الْخَيْرٰتِ ۭ وَاُولٰۗىِٕكَ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿١١٤﴾

نه دی دوی (تول اهل د کتاب سره) برابر ځینی د اهل د کتابونو یوه فرقه ده چه سمه ولاړه ده (په حق باندی) چه لولی دوی آیتونه د الله په ساعتونو د شپی حال دا چه دوی سجدی کوی ایمان راوړی په الله باندی او په ورځی آخری، (د قیامت) باندی او امر (حکم) کوی (خلقو ته) په معروف (نیکی) سره او منعه کوی (خلق) له منکر (بدئ) ځنی او تلوار کوی په ښو کارونو کښی (تاخیر نه کوی)، او دغه کسان له صالحانو ځنی دی.

**تفسیر:** د دی گردو (تولو) کتابیانو حال یو شان نه دی. د دومره بدانو په منځ کښې څه ښه کسان هم شته. او د دی مسخه شویو اشقیاؤ په منځ کښې ځینې سعید ارواح هم موجود دی. چه دوی ته (حق سبحانه و تعالیٰ) د حق منلو توفیق ورکړی دی او د اسلام په غیږ کښې ننوتلی دی. او د حق په لاره کښې هسې سم او مستقیم رهی (روان) دی چه هیڅ یو طاقت دوی له هغی لارې څخنی نه شي کږولی، د دوی په منځ کښې داسې سړی هم شته چه د شپې له مخې له خوږو خوبونو او له پستو بسترو څخه پاڅیږی، اودس کوی او د الله تعالیٰ په مخ کښې دریږی، او د ده په حضور کښې خپله خضوع، خشوع او تذلل وراندی کوی. او د نیاز تندی پر ځمکه باندی ږدی. او په لمانځه کښې له هغه سره مناجات کوی. او د ده پاک قرآن لولی، او په الله تعالیٰ او آخرت باندی په ښه ډول (طریقه) ایمان راوړی او د خالص توحید قائلان دی، او د قیامت له ورځې څخه ویریږی. او که کوم ښه کار ته وبلل شي نو په منډو ورځغلی او له نورو څخه په مخ کښې ور درومی بیا نه یوازې دوی پخپله پر سمه صافه لاره باندی ځی، بلکه نورو ته هم تشویق، ترغیب، لارښوونه او هدایت کوی، بلاشبهه په دی یهودانو کښې دا خلق هغه کسان دی چه دوی ته الله تعالیٰ د نیکبختی صلاح، رشد او فائدی یوه خاصه برخه ورعطا کړی ده، دا د عبدالله بن سلام او د هغه د ملګرو ذکر ؤ. رضی الله تعالیٰ عنهم.

وَمَا يَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ يُكْفَرُوهُ ط

او هر څه چه کوی دوی له خیره (ښه) پس له سره به ضائع نه کړی دوی لره (ثواب د) هغه کار.

**تفسیر :** بلکه دوه مثله اجر به مومی، لکه چه د «قصص» په ٥٤ آیة ٦ رکوع کښې داسې یو آیت لولو ﴿ أُولَٰئِكَ يُؤْتَوْنَ أَجْرَهُم مَّرَّتَيْنِ بِمَا صَبَرُوا ﴾ او په صحیح حدیث کښې نبی کریم علیه الصلوٰة والتسلیم د هغه تشریح فرمایلی ده.

وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالْمُتَّقِينَ ﴿١١٥﴾

او الله ښه عالم دی پر (احوالو ) د پرهیزګارانو (هم).

**تفسیر :** د هم دی له امله (وجی) چیری چه د یهودانو د خرابیو ذکر راځی حق سبحانه و تعالیٰ دا پرهیزګاران تری جلا (جدا) او مستثنیٰ کوی او سم د دوی له تقویٰ او پرهیزګارئ سره په دنیا او آخرت کښې له هغوی سره بیخی جلا (جدا) او ممتازه معامله کوی.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَن تُغْنِيَ عَنْهُمْ أَمْوَالُهُمْ وَلَا أَوْلَادُهُم
مِّنَ اللَّهِ شَيْئًا ۖ وَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿١١٦﴾
مَثَلُ مَا يُنفِقُونَ فِي هَٰذِهِ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا كَمَثَلِ رِيحٍ فِيهَا
صِرٌّ أَصَابَتْ حَرْثَ قَوْمٍ ظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ فَأَهْلَكَتْهُ ۚ

بیشکه هغه کسان چه کافران شوی دی له سره به دفعه نه کړی له دوی ځنی مالونه د دوی او نه اولاد د دوی له (عذابه) د الله هیڅ شی! او دغه کسان صاحبان د اور (د دوزخ دی). دوی به په هغه (اور) کښی تل وی (بی انتهاء، بلا انقطاع) مثال د هغه مال چه صرفوی (ئی کافران د الله په لاره) په دی ژوندانه د دنیا (لږ خسیس) کښی په شان د مثال د هغه باد دی چه وی په دی باد کښی ډیره یخنی (یا اور) چه ورسیږی (دا باد) کښت (فصل) د یوه قوم ته چه ظلم ئی کړی دی پر ځانونو خپلو پس هلاک کړی دغه کښت (فصل).

**تفسیر :** د صالحانو او د متقیانو په مقابل کښی دلته د کافرانو د حال او د انجام ذکر فرمائی پخوا ئی فرمایلی ؤ . ﴿ وَمَا يَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ فَلَن يُكْفَرُوهُ ﴾ یعنی د مؤمنانو نیکی که څه هم ډیره وړه وی بی اجره نه پاتی کیږی او د دوی د هیڅ یو ښه کار بیقدری نه کیږی. بالعکس کافران هر څومره چه مال او قوت په دنیا کښی ولګوی، اګر که دوی ئی پخپل زعم لوی ثواب او ښه خیرات وګڼی، په آخرت کښی ئی هیڅ قدر او پوښتنه نه کیږی، ځکه چه د ایمان او د صحیح معرفت د روح نه لرلو له سببه د هغه هر عمل بیکاره او بی فائدی دی، د هغه جزا به هم داسی فانی او ناپایښته په هم دغه فانی دنیا کښی وررسیږی. د عمل ابدی ساتونکی ایمان او ایقان او باور دی، او پرته (علاوه) له ایمانه د هر عمل مثال داسی وګڼئ لکه چه کوم شریر یا ظالم فصل وکړی، یا په باغ کښی نیالګی کیږدی، او د هغه د ساتلو څه انتظام او فکر ونه کړی، او له واوری او ږلی ځنی ئی ونه ساتی او د هغه له څو ورځو زرغونتیا او ښکلی ننداری ځنی خوښ شی، او راز راز (قسم قسم) هیلی او امیدونه د هغو په نسبت پخپل زړه کښی وګرځوی. چه ناڅاپه د هغه شرارت او د بدبختی په اثر سخته سیلی ولګیږی، او پر هغو شینکو باندی دومره واوره او ږلی ولوریږی چه یو په یو هغه تک شین فصل او باغ خراب کړی او وئی سوځوی، او دی په پای (اخر) کښی د دی تباهی په نسبت خپلی ګوتی وچیچی او خاوری په سر

باد کړی نه ئی هیلی (ارمانونه) پوره شی. او نه ئی امیدونه په ځای شی او نه د اړی او احتیاج په وخت کښی د هغه له پیداواره منتفع شی، او کله چه دا تباهی د ظلم او د شرارت سزا وه نو ځکه پر دغه مصیبت باندی څه اخروی اجر هم لکه چه مؤمنان ته په داسی مواردو کښی وررسیږی په لاس نه ورځی کتمت (هو بهو) هم دا د هغو کفارو احوال دی چه په کفر او شرک باندی تینګ ولاړ وی، او پخپلو خیالاتو او چرتونو (وهمونو) دیر خیر او خیرات ورکوی. پاتی شول هغه کمبختان چه د هغوی زور، قوت، مال او شته د حق او د اهل حق په دشمنی، یا په فسق او فجور کښی لګیږی نو د دوی د حال پوښتنی نه دی په کار، ولی چه دوی نه یوازی خپل مال خوشی چتی (فضول) صرفوی بلکه په دی مال صرفولو سره ځان ته لا نور زیان او وبال هم اړوی، دی ګردو (تولو) ته ښائی چه په یاد ئی ولری. «مال وی ـ که اولاد ـ هر شی چه وی، د الله تعالیٰ د عذاب مخه نشی اړولی، او نه د متقیانو په مقابل کښی دوی پخپلو هیلو (امیدونو) باندی بری مومی.

**تنبیه** : «ریح» مفرد لفظ په قرآن کریم کښی عموماً د عذاب په مورد کښی مستعمل شوی دی. لکه ﴿ رِيحٍ فِيهَا عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ او ﴿ وَلَئِنْ أَرْسَلْنَا رِيحًا ﴾ او ﴿ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا ﴾ الآیة ـ او د **«رحمة»** په موقع کښی د جمعی لفظ «ریاح،» راغلی دی لکه ﴿ يُرْسِلَ الرِّيَاحَ مُبَشِّرَاتٍ ﴾ . او ﴿ وَأَرْسَلْنَا الرِّيَاحَ لَوَاقِحَ ﴾ الآیة ـ او ﴿ يُرْسِلُ الرِّيَاحَ بُشْرًا ﴾ الآیة ـ کذا ذکره ابوحیان.

---

وَمَا ظَلَمَهُمُ اللَّهُ وَلَٰكِنْ أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿١١٧﴾

---

او نه دی ظلم کړی پر دوی باندی الله ولیکن پر ځانو خپلو ظلم کوی دوی (په کفر سره چه د حسناتو د ضیاع موجب دی).

---

**تفسیر** : داسی دی ونه ګڼل شی چه «هر کله د کافرانو هیڅ یوه نیکی نه منله کیږی، نو پر دوی باندی معاذ الله د الله تعالیٰ له جانبه ظلم او تیری شوی دی» داسی نه ده! ځکه چه دوی دا ظلم پخپلو ځانونو باندی پخپل لاس کړی دی، که دوی کفر او شرک خپلو ځانونو ته نه غوره کولی نو دغه بده ورځ به ورته نه پیښیده.

---

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً مِنْ دُونِكُمْ لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا وَدُّوا مَا عَنِتُّمْ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاءُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْآيَاتِ إِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُونَ ﴿١١٨﴾

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (ای مؤمنانو) مه نیسئ تاسی دوستان د راز (له هیڅ فرقی نه چه وی) غیر له تاسی (مؤمنانو) هیڅ کمی نه کوی دوی له تاسو سره د فساد (او ضرر رسولو)، دوست ګڼی دوی ضرر ستاسی، په تحقیق ښکاره شوی دی بغض او دښمنی له خلو د دوی نه او هغه بغض چه پټوی ئی سینی (زړونه) د دوی ډیر لوی دی (له هغه چه په خله ئی وائی)، په تحقیق بیان کړی دی مونږ تاسی ته علامی (د نفاق د دوی) که یئ تاسی چه عقل چلوئ پکښی (پوهیږئ)

**تفسیر :** ځینی وائی دا آیتونونه د یهودانو په باب کښی نازل شوی دی. ځکه چه ځینی مسلمانان د (حلف جوار) یعنی د ګاوندیتوب دوستانه معاهده او د نورو خبرو په بناء چه کوم تعلقات ئی پخوا له اسلامه له هغوی سره لرل، وروسته له اسلامه ئی هم هغه مناسبات له دوی سره همغسی تینګ وساتل، او د دوستی په اعتماد به مسلمانانو له دوی سره د ځینو پټو خبرو او خصوصی مشورو په اخفاء کښی زیات اهتمام نه کاوه. او د ځینو په نزد دا آیتونه د منافقانو په حق کښی نازل شوی دی ځکه چه په عادی ډول (طریقه) به خلقو دوی ظاهراً مسلمانان ګڼل، او دومره زیات احتیاط به ئی تری نه کاوه، چه د دی بی احتیاطی له امله (وجی) د سخت زیان د رسیدلو اندیښنه وه. حق تعالیٰ دلته په صاف او ښکاره ډول سره تنبیه راکره چه مسلمانان دی د خپل حقیقی مسلمان ورور ځنی پرته (علاوه) بل چاته د خپل د زړه خبره او پته مرکه (راز) نه ورښئی ځکه که یهودی وی یا نصرانی منافق وی که مشرک له دوی ځنی هره یوه ډله چه وی ستاسی حقیقی خیر غوښتونکی نه دی، بلکه دا خلق تل په دی کوښښ کښی لګیا دی چه تاسی تیریاسی، او په هر چم (فریب) سره چه وشی څه زیان در ورسوی، او په دینی او دنیوی خرابیو کښی تاسی اخته کړی د دوی خوښه هم دا ده چه تاسی په تکلیف کښی اوسئ، او په یوه نه یوه تدبیر تاسی ته کوم دینی یا دنیوی نقصان درورسیږی. هغه دښمنی او بغض چه د دوی په زړونو کښی دی هغه خو ډیر زیات دی. لیکن ډیر ځلی داسی هم کیږی چه دوی د عداوت او غیظ د جذباتو په مقابل کښی مغلوبیږی. د هم دی رخی،(کینی) حسد او دښمنی له امله (وجی) د دوی ژبی د دوی په واک (قبضه) او اختیار کښی نه دی، نو د عقلمن سړی دا کار نه دی چه هسی خبیث باطن دښمنان خپل رازداران وګرځوی. حق تعالیٰ د دوست او دښمن علامی، او د مؤالاتو او نورو احکام په ښکاره ډول (طریقه) سره بیان فرمایلی دی، په هر هغه چا کښی چه عقل وی، له هغه ځنی به کار اخلی (د کفارو د مؤالاتو په نسبت څه تفصیل پخوا له دی نه په هم دی سورت کښی تیر شوی دی او څه نور په «المائدة» او نورو کښی راځی.

هَٰٓأَنتُمْ أُوْلَآءِ تُحِبُّونَهُمْ وَلَا يُحِبُّونَكُمْ وَتُؤْمِنُونَ بِٱلْكِتَٰبِ كُلِّهِۦ

واورئ خبردار شئ! تاسی هغه کسان یئ چه دوستی کوئ له دوی سره او نه کوی دوستی دوی له تاسی سره او تاسی ایمان لرونکی یئ پر ټولو کتابونو.

**تفسیر** : یعنی دا څومره بی موقعه خبره ده چه تاسی د هغوی په دوستی باندی نازیږئ! او هغوی ستاسی دوستان نه دی بلکه ستاسی بیخ ایستونکی دښمنان دی او عجیبه لا دا ده چه تاسی آسمانی کتابونه اعم له دی چه هغه د هر قوم وی او په هره زمانه کښی معمول وی، پر هر نبی باندی چه نازل شوی وی ګرد (ټول) منئ (پر هغو باندی چه حق تعالیٰ ئی نومونه راښودلی دی بالتفصیل، او پر هغوی باندی چه نومونه ئی نه دی راښودلی بالاجمال ایمان لرئ) په خلاف د دی دا خلق ستاسی کتاب او نبی علیه السلام نه منی بلکه دوی پر خپلو کتابونو او انبیاؤ باندی هم صحیح ایمان نه لری په دی لحاظ سره ښه خو به داسی ؤ چه هغوی به له تاسی سره مینه او محبت کولی او تاسی به له دوی څخنی ډیر لری ګرځیدئ او نفرت او بیزاری به مو ښکاروله مګر دلته خو معامله سرچپه او بالعکس ده.

وَإِذَا لَقُوكُمْ قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا

او کله چه یو ځای شی دوی له تاسی سره نو وائی دوی ایمان مو راوړی دی،

**تفسیر** : منافقینو خو به تل هم داسی ویل «عامو یهودانو او نصرانیانو هم پخپلو خبرو او اترو او مباحثو کښی آمنا ـ مونږ مؤمنان یو!» ویل له دی وینا څخنی د هغو مقصد دا ؤ چه مونږ په خپلو کتابونو باندی ایمان لرو او هغه منو!.

وَإِذَا خَلَوْا۟ عَضُّوا۟ عَلَيْكُمُ ٱلْأَنَامِلَ مِنَ ٱلْغَيْظِ

او کله چه یوازی شی دوی نو چیچی دوی په تاسی باندی سرونه د ګوتو له (ډیره) قهره،

**تفسیر** : یعنی د اسلام د عروج او پخپلو منځونو کښی د مسلمانانو د مینی، الفت او محبت له لیدلو څخه دا خلق له ډیره بغضه او عناده سوځی او مری او څرنګه چه د مسلمانانو په خلاف هیڅ جرأت او اقدام نه شی کولی، نو ځکه د ډیره قهره او غضب او خپګان له امله (وجی) غاښونه او ګوتی سره چیچی.

## قُلْ مُوتُوا بِغَيْظِكُمْ

ووايه (اى محمده ! دوى ته) مره شئ! په قهر (او بغض) خپل سره،.

**تفسير:** يعنى الله تعالىٰ اسلام او مسلمانانو ته لا زيات ترقيات او فتوحات ور په برخه كوى نو تاسى پخپل غيظ، غضب او غصه كښى ومرئ! كه له ډيرو لغتو وهلو ځنى مو سا وخيژى خو بيا به هم ستاسى دا هيلى او آرزوگانى نه پوره كيږى. او الله تعالىٰ هرومرو (خامخا) اسلام غالب او مسلمانان بريالى (كامياب) كوى.

## إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿١١٩﴾

بيشكه چه الله عالم دى په هغو (خبرو هم) چه په سينو (زړونو) كښى دى (نو دوى ته به پرى جزا وركوى)

**تفسير :** نو له هم دى امله (وجى) ئى مسلمانان د دى شريرانو په باطنى حالاتو او قلبى جذباتو مطلع كړل. او دوى ته داسى سزا هم وركوى چه د دوى د دغو پټو شرارتونو او پټو عداوتونو سره هم تناسب ولرى.

## إِنْ تَمْسَسْكُمْ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ وَإِنْ تُصِبْكُمْ سَيِّئَةٌ يَفْرَحُوا بِهَا

كه ورسيږى تاسى ته كومه ښيگڼه (لكه فتح يا غنيمت) نو خپه كوى دوى او كه ورسيږى تاسى ته كومه بدى (خپگان لكه قتل يا هزيمت) نو خوشاليږى دوى په سبب د هغه .

**تفسير :** كه ستاسى لږ څه گټه او فائده د دوى تر سترگو شى مثلاً ستاسى اتحاد يو جهتى، پر دښمنانو باندى غلبه او نور ووينى نو د رخى (كينى) او حسد په اور كښى نينى نينى كيږى. او كه چيرى پر تاسى كوم مصيبت يا خپگان راشى نو دوى له ډيرى خوښى او خوشالى پخپلو كاليو (جامو) كښى نه ځائيږى نو ښه! داسى پست او ښكته قوم سره همدردى لرل او له هغو ځنى د خير غوښتلو څه هيله(اميد) او توقع كيدى شى؟ چه تاسى د هغوى په لورى د دوستى او خپلوى لاسونه ور وړاندى كوئ.

وَإِن تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا ۗ إِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿١٢٠﴾

او که صبر وکړئ تاسي (پر اضرار د دوی) او ځان وساتئ تاسي (له دوستی د دوی) نو ضرر به نه رسوی تاسي ته مکر، فریب د دوی هیڅ شی، بیشکه چه الله په هغو کارونو چه دوی (ئی) کوی (هم) ښه احاطه کوونکی (او هر شی ورته معلوم) دی.

**تفسیر :** ممکن ؤ چه چاته دا خیال پیدا کیده چه که مونږ له دوی سره دوستانه تعلقات ونه لرو نو دوی ته به لا زیات غیظ او غضب ورځی او زمونږ په خلاف به تدبیرونه کوی او لا زیات زیان به رارسوی. د دی ځواب ئی داسی ورکړ چه که تاسی په صبر او استقلال، تقویٰ او طهارت باندی تینګ ولاړ اوسئ نو د هغوی به هیڅ دول (قسم) مکر او فریب پر تاسی نه چلیږی. هر راز (قسم) کار چه دوی کوی هغه تول الله تعالیٰ ته معلوم دی او الله تعالیٰ ته هر کله دا قدرت حاصل دی چه د دوی د مکر او فریب جالونه ګرد (تول) سره وشلوی. تاسی خپله معامله له الله تعالیٰ سره پاکه او صافه وساتئ! بیا نو ستاسی له لاری هر راز اغزی او خندونه لری کیږی. تر دی وروسته د (احد) د غزا ذکر راځی چه په هغی کښی ځینی مسلمانان د منافقانو له اغواء کوونکو حرکاتو ځنی لږ څه متأثر شوی وو. او نژدی ؤ چه د مسلمانانو د دوو قبیلو له لاسونو د صبر او تقویٰ لمن خوشی شی. او منافقانو ته د خوښی موقع په لاس ورشی. مګر الله تعالیٰ د هغوی لاس ونیوه او دا قبیلی ئی له خورا (دیر) سختو ښوئیدلو څخه وژغورلی (بچ کری).

وَإِذْ غَدَوْتَ مِنْ أَهْلِكَ تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِينَ مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٢١﴾
إِذْ هَمَّت طَّائِفَتَانِ مِنكُمْ أَن تَفْشَلَا وَاللَّهُ وَلِيُّهُمَا ۗ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ﴿١٢٢﴾
وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ بِبَدْرٍ وَأَنتُمْ أَذِلَّةٌ ۖ فَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٢٣﴾

او (یاد کړه ای محمده!) چه راووتی ته په اول د ورځی کښی له کوره خپله چه تیارول دی مؤمنانو ته (په احد کښی) ځایونه له پاره د جنګ او الله ښه اوریدونکی دی (د تولو اقوالو) ښه عالم دی (پر ګردو (تولو) احوالو) کله چه

قصد وکړ دوو طائفو له تاسي د دی خبری چه بی زړه شي دوی (له جنګه) حال دا چه الله ولی (مددګار) د دوی ؤ او خاص پر الله دی نو توکل وکړی مؤمنان او خامخا په تحقیق مرسته (مدد) کړی وه له تاسی سره الله په (جنګ) د بدر کښی حال دا چه تاسی کمزوری وئ نو وویریږئ له الله نه له پاره د دی چه شکر وکړئ تاسی (د نعمتونو او احسانونو د ده).

**تفسیر :** په دی آیت کښی د (احد) د غزا واقعه یاده شوی ده. دا واقعه داسی وه چه د هجرت په (٢) کال د رمضان المبارک په میاشت د (بدر) په مقام کښی د مسلمانانو او قریشو د فوځونو په منځ کښی لوی تصادم واقع شو چه په هغه کښی د مکی معظمی له کفارو (٧٠) نومیالی سری مقتول او (٧٠) تنه بندیان شول. له دی تباه کوونکی او سپکوونکی ماتی څخه د قریشو د انتقام لمبی پورته شوی. د هغو وژل شوی ؤ مشرانو وارثانو او خپلوانو ګردو (تولو) عربو ته د غیرت او حمیت دعوت ورکړ او له مکیانو څخنی ئی غوښتنه وکړه چه «هغه تجارتی مال چه له (شام) څخنی راوړی شوی دی (چه هم هغه د بدر د غزا سبب ؤ.) ګرد (تول) سره په هم دی مهم کښی صرف کړ شی! څو مونږ له محمد او محمدیانو څخه د خپلو مقتولینو بدل او انتقام واخیستی شو.» دا خبره ګردو (تولو) سره ومنله او د هجرت په (٣) کال قریشو سره نوری قبیلی هم پر (مدینی منوری) باندی د تعرض په قصد ووتلی تر دی چه له دوی سره ښځی هم د جنګ په نیت او د دی له پاره چه د ضرورت په وخت کښی نارینه ؤ ته غیرت ورکړی او د دوی د ماتی مخه ونیسی روانی شولی. کله چه دغه دری زریزه لښکر په وسلو او تجهیزاتو (تیارو) سره له مدینی منوری څخنی (٣) یا (٤) میله لری (د احد) د غره سره نژدی د چارشنبی په ورځ د شوال (١٢) د هجرت په دریم کال واړول نو رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له خپلو اصحابو سره جرګه او مشوره وکړه. د رسول الله مبارک رأیه داسی وه چه پخپله په مدینی منوری کښی اسلامی مجاهدین پاتی شی څکه چه په هم هغه ځای کښی هم د مکی معظمی له کفارو سره په ډیری آسانی او کامیابی سره غزا کیدی شی. د دی فکر تائید د دوی له یوه خوب څخه هم شوی ؤ دا ړومبی ځلی ؤ چه له رئیس المنافقین (عبدالله بن ابی) څخنی هم رأیه واخیسته شوه چه د ده رایه هم د رسول الله مبارک له رأئی سره موافقه وه. مګر ځینی هغه پر جوش مسلمانان چه د بدر په غزا کښی نه وو شامل شوی. او د غزا او شهادت په درجی موندلو پسی مضطرب وو په دی باندی تینګ شول چه مونږ ته ښائی چه له ښاره د باندی ووځو او هلته له کفارو سره مقابله وکړو څو دښمن د ضعف او د ویری ګمان پر مونږ باندی ونه کړی د آراؤ اکثریت په وتلو باندی غوته شو. په هم دی شور ماشور کښی رسول الله صلی الله علیه وسلم کور ته ولاړ او ځغره ئی واغوسته او خپله وسله ئی واخیسته او د غزا په نیت د باندی ووت. د پاک رسول الله په غیاب کښی ځینو کسانو ته هسی یو خیال پیدا شو چه «مونږ ولی د رسول الله صلی الله علیه وسلم له خیاله مخالف دوی ته عرض وکړ چه د غزا له پاره د باندی ووځی!» نو

ځکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له کور څخه د راوتلو په وخت کښې د دوی په لوړ حضور کښې عرض وشو. «یا رسول الله! کله چه ستاسې پاکه اراده پر دې باندې ده چه هم دلته مدافعه وکړو نو راځئ چه هم دلته سنگر ونیسو» رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل «یو نبي ته دا خبره مناسبه نه ده کله چه دې ځغره واغوندي، او وسله په لاس واخلي، او غزا ته خپله ملا وتړي بیا بې له قتاله وسله له ځانه لرې کړي.» کله چه دوی له مدینې منورې څخه د باندې تشریف یووړ، نژدې یو زر تنه مجاهدین له دوی سره وو. مگر عبد الله بن ابي نژدې سره له (٣٠٠) سړیو (چه ځینې مسلمانان هم پکښې وو) له لارې څخه بیرته وگرځیدل او ویل به ئې «کله چه ده زما په خبره باندې غوږ کښینښود او زما په مشوره ئې عمل ونه کړ نو مونږ هم دې ته اړ (تیار) نه یو چه وجنگیږو او خامخا خپل ځانونه مړه کړو» ځینو مشرانو (ابن ابي) ویوهاوه چه «راځه! چه غزا ته ولاړ شو! چیرې ځې؟» خو (ابن ابي) ونه منله او تول سره ستانه (واپس) شول. په پای (اخر) کښې رسول الله مبارک سره له (٧٠٠) مجاهدینو د جنگ ډگر (میدان) ته ورسیدل. او رسول الله مبارک بالذات د لښکرو صفونه وتړل او هر یو تولی ئې په مناسب ځای کښې وتاکه (مقرر کړه) او هغوی ته ئې خپلې وظیفې وروښودلې. او امر ئې وفرمایه «ترڅو چه زه د جنگ حکم در نه کړم تاسې مه جنگیږئ! او په خپلو ځایونو کښې منتظر اوسئ!» په دې منځ کښې د عبدالله بن ابي د جلاوالي (جداوالي) او د تحریک په اثر د دوو قبیلو بنو حارثه او بنو سلمه په زړونو کښې لږ څه کمزوري پیدا شوه او د مسلمانانو د لږ تعداد له کبله (وجې) ئې زړونه سره وریږدیدل او داسې خیال ورپیدا شو چه د جنگ له ډگره ځان بیرته وکاږي. مگر حق جل وعلی شان) د دوی لاس ونیوه. او له دوی سره ئې مرسته (مدد) وکړه او زړونه ئې تینگ کړل او دا ئې ور په زړه کړ چه د مسلمانانو اعتماد او ډاډینه ښائي یوازې په الله تعالیٰ باندې وي. او ښائي تل ترتله د الله تعالیٰ په اعانت او نصرت باندې متوکلان وي. تعداد، سامان، لوازم تجهیزات او نور دومره اهمیت نه لري. کله چه الله تعالیٰ خوک غواړي چه مظفر او منصور وگرځوي نو له گرد (تول) ساز او سامان څخه ئې مستغني او بې پروا کوي. او د غیبي تائید «فتح مبین» ور په برخه کوي. لکه چه د «بدر» په غزا کښې داسې وشو. نو مسلمانانو ته ښائي چه تل له الله تعالیٰ څخه وویریږي خو د الله تعالیٰ له جانبه دوی ته لا انعام او احسان او د ډیر شکر کولو موقع په لاس ورشي. د «بدر» د غزا پوره تفصیل د «الانفال» په سورت کښې راځي د هغه په فوائدو کښې دې وکوت شي!.

**تنبیه :** له دوو فرقو څخه مراد «بنو حارثه» او «بنو سلمه» دي. اگر که په دې آیت کښې دوی ته نرۍ شانته «اخطار» ورکړی شوی دی مگر د دې قبیلې ځینو مشرانو به فرمایل چه «د دې آیت په نه نازلیدولو مونږ نه وو خوښ بلکه پر نزول ئې خوښ یو» ځکه چه ﴿وَاللَّهُ وَلِيُّهُمَا﴾ زیرې د ده له ویرې څخه لوی دی.»

إِذْ تَقُولُ لِلْمُؤْمِنِينَ أَلَن يَكْفِيَكُمْ أَن يُمِدَّكُمْ رَبُّكُم

بِثَلٰثَةِ اٰلٰفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُنْزَلِيْنَ ﴿١٢٤﴾

(یاد کړه ای محمده!) کله چه ویل تا مؤمنانو ته چه آیا کافي (بس) به نه شي ستاسي دا چه مرسته (مدد) وکړي له تاسي سره رب ستاسي په دری زرو له پرښتو چه رالیږلي شوی وی (له آسمانه).

**تفسیر** : یعني چه له آسمانه خاص د هم دی کار له پاره نازل کړی شوی وی. د اکثرو علماؤ په نزد دا راجح دی چه دا واقعه د «بدر» د غزا ده. کله چه مسلمانانو ته د کفارو د جمعیت او کثرت او اسلحی او تجهیزاتو له لیدلو ځني اندیښنه او تشویش پیدا شو نو رسول الله مبارک د دوی د تسلی له پاره داسي وفرمایل او داسي شوه لکه چه د پرښتو مرسته (مدد) له اسمانه ورسیده. د «الانفال» په سورت کښي د دی مفصل بیان راځی. هملته د ملائکو د نزول په حکمت او د ملائکو په تعداد او په ظاهری تعارض باندی هم خبری کیږی.

بَلٰٓى ۙ اِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا وَيَاْتُوْكُمْ مِّنْ فَوْرِهِمْ هٰذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُمْ بِخَمْسَةِ اٰلٰفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِيْنَ ﴿١٢٥﴾

هو! (دری زره بس کیږی)! که تاسی صبر وکړئ او وویریږئ (له الله) او راشي مشرکان پر تاسي په دغه ساعت (بی له تاله یو ناڅاپه) مرسته (مدد) به وکړي له تاسي سره رب ستاسي په پنځو زرو سره له پرښتو چه علامی لرونکی به وی،

**تفسیر** : یعني دری زره بیشکه کافي دی. بیا هم که تاسی د صبر او استقلال ثبوت راکړئ! او تقویٰ غوره کړئ!، او له نافرمانی ځني ځانونه وساتئ، او د کفارو فوځونه یو ځائی پر تاسی باندی رامات شي نو د دری زرو پرښتو پر ځای پنځه زره پرښتی درلیږلی کیږی چه هغوی به ځانته آثار او خاصی علامی لری. او د دوی پر آسونو باندی به خاصی نښی وی. څرنګه چه په «بدر» کښي د کفارو شمیر یو زر تنه ؤ ړومبی ئی د هغه په تناسب سره د یو زر پرښتو وعده وفرمایله لکه چه د «الانفال» په سورت کښی راځی. بیا ئی د مسلمانانو د ویری د لری کولو له پاره د دوی شمیر دری چنده وفرمایه. څکه چه د کفارو شمیر د مسلمانانو د شمیر په نسبت دری چنده ؤ. وروسته له دی نه د (شعبی) له روایت سره سم کله چه مسلمانانو ته دا خبره ورسیده چه (کرز بن جابر) د لوی کومک سره د مشرکانو په مرسته (مدد) راځی، نو یو نوی اضطراب پیدا شو. په دی وخت کښی پاک خدای د زیات تسکین او تقوئی له پاره وعده وفرمایله

که له صبره او تقویٰ څخه کار واخلئ نو مونږ به پنځه زره پرښتی ستاسی د مرستی (مدد) له پاره درولیږو. که د مشرکانو مرسته (مدد) ناڅاپه وورسیده نو بیا هم څه اندیښنه مه کوئ! ځکه چه الله تعالیٰ سم د لاسه په عین وخت کښی بیا تاسی سره مرسته (مدد) کوی. ښائی چه د پنځو زرو شمیر د دی له امله (وجی) ویلی شوی وی چه لښکر په پنځو برخو ایشلی کیږی نو هری برخی ته یو یو زر مرسته (مدد) ورکوله کیده. څرنګه چه د (کرز بن جابر) مرسته (مدد) ونه رسیده نو ځکه ځینی وائی چه د پنځو زرو وعده هم پوره نه کړه شوه ولی چه هغه وعده په ﴿ وَيَأْتُوكُم مِّن فَوْرِهِمْ هَٰذَا ﴾ باندی معلقه وه. د ځینو قول داسی دی چه پنځه زره پرښتی نازلی شوی. والله اعلم. د دی موضوع پوره بیان دی د «الانفال» په سورت کښی وکوت شی!

---

وَمَا جَعَلَهُ اللَّهُ إِلَّا بُشْرَىٰ لَكُمْ وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوبُكُم بِهِ ۗ وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِندِ اللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ ﴿١٢٦﴾

---

او نه ده ګرځولی الله دا مرسته (مدد) مګر له پاره د خوشالتیا ستاسی او له پاره د دی چه تسکین ومومی زړونه ستاسی په دی سره او نه ده مرسته (مدد) مګر له (جانبه د) الله چه ښه غالب قوی دی (د احکامو په انفاذ) ښه حکمت والا (چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی)

---

**تفسیر:** یعنی دا ګرد (ټول) غیبی سامان په فوق العاده ډول (طریقه) سره د ظاهری اسبابو په صورت یوازی دی له پاره مهیا کړی شوی وی چه ستاسی له زړونو ځنی ویره او اضطراب لری شی، سکون او اطمینان ستاسی په برخه شی که نه د الله تعالیٰ مرسته (مدد) په هسی شیانو باندی محدود او مقصور نه دی او نه له اسبابو او سامان سره څه اړه (احتیاج) او تعلق لری. که الله تعالیٰ اراده وفرمائی نو یوازی پخپل قوی قدرت سره بی د پرښتو له اشتراکه هم تاسی بریالی کوی. یا بی ستاسی له جهاده او رېړ ګاللو (تکلیف تیرولو) څخه کافران نامراد او زیانمن کوی یا له یوی پرښتی ځنی هم دا کار اخلی چه اوس ئی له (۵۰۰۰) ځنی اخلی. کومه مرسته (مدد) چه پرښتی دررسوی هغه هم د هم هغه (قدیر خدای) په قدرت او مشیت سره دی بل هیڅوک مستقل قدرت او اختیار نه لری. بیا دا د ده حکمت دی چه په کومه موقع کښی له څه قسم اسبابو او وسائطو کار اخیستل وړ (لائق) او مناسب دی؟ (پرته (علاوه) له ده څخه) د تکوین په پټو رازونو باندی بل هیڅوک د احاطه کولو قدرت نه لری

د دنیا له باغه ټول کړه! تل ګلونه! په اسرارو د قدرت مه کړه فکرونه!
د قدرت اسرار معلوم دی پاک الله ته ته ئی نه مومی له علمه له فنونه !

لِيَقْطَعَ طَرَفًا مِّنَ الَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَوْ يَكْبِتَهُمْ فَيَنقَلِبُوا۟ خَآئِبِينَ ﴿١٢٧﴾

(الله کومک درکړ) څکه چه هلاک کړی څینی له هغو کسانو چه کافران شوی دی یا ئی ذلیل (خواروزار) کړی پس بیرته ولاړ شی (په ماتی سره) محروم .

**تفسیر :** یعنی د پرښتو له لیږلو څخنی ستاسی امداد مقصود ؤ چه د تاسی زړونه ډاډه او کلک شی! او د الله تعالیٰ له جانبه پوره بشارت او اطمینان وموموئ! او په سکون سره په ډیره بهادری د دښمن مقابله وکړئ! چه له هغه څخنی دا غرض ؤ چه دا د کفارو زور مات شی او د دوی متونه پری شی او څه نومیالی (نامور) مشرکان ووژلی شی او څه تری په ذلت سره بندیان شی او «بقیة السیف» کسان په ډیره رسوائی او ناکامی سره بیرته ولاړ شی لکه چه هم داسی هم وشو. (۷۰) تنه غټ کفار چه په هغوی کښی د دی امت فرعون (ابوجهل) هم ؤ وژل شول، او (۷۰) تنه ئی بندیان شول او نور د غازیانو د چړو څخه تښتیدلی سری په ډیره سپکتیا او ذلت سره بیرته مکی معظمی ته لاړل.

لَيْسَ لَكَ مِنَ ٱلْأَمْرِ شَىْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَإِنَّهُمْ ظَٰلِمُونَ ﴿١٢٨﴾

نشته تالره له امره هیڅ شی (بلکه الله اختیار لری د هر شی) یا به رجوع وکړی (الله په قبلولو د توبی سره) په دوی باندی یا به عذابوی (الله) دوی پس بیشکه دوی ظالمان دی.

**تفسیر :** د (احد) په غزا کښی (۷۰) تنه لوی اصحابان شهیدان شوی وو چه په هغوی کښی زمونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم تره سید الشهداء حضرت حمزه رضی الله تعالیٰ عنه هم ؤ. مشرکانو په ډیر وحشیانه ډول (طریقه) سره شهداء مثله کړی هم وو یعنی پوزی، غوږونه او نور اعضا ئی پری او ګیډی ئی ورڅیری کړی وی تر دی چه د حضرت حمزه رضی الله تعالیٰ عنه زړه او ځیګر هم هندی (د ابوسفیان ښځی) وایستل او وئی ژوول د دی غزا مفصله واقعه به وروسته راشی، لنده ئی دا چه نبی کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم ته په دغی غزا کښی د سترګو د بد نظر ضرر ورسید او له مخنیو څلورو غاښونو څخنی لاندنی ښی غاښ ئی په شهادت ورسید، د (خول) کړی ئی ماتی شوی او د ده مبارک په مخ کښی ننوتی او د ده مبارک تندی زخمی شو. او د ده مبارک وجود په وینو تک سور شو. په هم دی وخت کښی د ده مبارک پښه هم وښوئیده او پر څمکه ولوید او سم د لاسه بیهوشه شو. کافرانو دا مشهوره کړه. (ان محمداً قد

قتل ـ بیشکه محمد وواژه شو» د دی خبری له اوریدلو څخه ګرد (تول) مسلمانان وارخطا شول. لږ څه وروسته زمونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم په سد شو په دغه وخت کښی د ده له مبارکی خولی څخنی دا جمله ووته. «هغه قوم به څرنګه فلاح وموهی چه د خپل هغه رسول مخ ئی په وینو سور (ژوبل) کړ چه دوی د الله جل جلاله په لوری بولی؟» هو! د مشرکانو د وحشیانه شدائدو او ظلمونو د لیدلو په اثر دوی متأثر شول او د کفارو څو نومیالیو (نامورو) متجاوزینو ته ئی د ښیرا کولو اراده وفرمایله. په رښتیا سره چه دوی حق هم درلود (لرلو) چه هغوی ته د دوی د هسی وحشی توب او بربریت په مقابل کښی ښیرا وکری. مګر د الله تعالیٰ منظور داسی ؤ چه دوی له خپل جلیل منصب څخنی لا لوړ ځای ته وخیژوی. او د دوی د لویو اخلاقو یوه خورا (ډیره) ښه نمونه قائمه کړی او تولی دنیا ته دا ورڅرګنده کړی چه د بشریت عالم د دی سید المرسلین صلی الله علیه وسلم دغه صبر، تحمل، حلم او عفوی ته وګوری چه خلق پر دوی باندی ظلم او تیری کوی او دی هغوی ته هیڅ نه وائی. دوی یوازی د هم هغه حکم په تعمیل کښی بوخت او لګیا په نظر راځی چه پری مامور دی او هغه دعوت، تبلیغ، جهاد او نور دی او د نورو چارو نتیجه او انجام الله تعالیٰ ته سپاری. په هغو کښی چه هر حکمت او مصلحت وی هغه به کیږی. آیا د دی په ځای چه هغوی د رسول کریم صلی الله علیه وسلم په ښیره هلاک کړی دا ښه نه دی چه له هم دی دښمنانو څخینی د اسلام محافظان او د رسول الله مینان او رښتین ځان جاروونکی جوړ کړی؟ لکه چه هم دا نومیالی مشران چه رسول الله مبارک د دوی په حق کښی د ښیرا کولو اراده فرمایلی وه څه موده وروسته الله جل جلاله دوی ګرد (تول) سره د دوی په پښو کښی واچول او د اسلام په سرتیرو لښکرو کښی شامل شول. الغرض په ﴿ لَيۡسَ لَكَ مِنَ ٱلۡأَمۡرِ شَيۡءٌ ﴾ کښی ئی محمد صلی الله وسلم ته تنبیه وفرمایله چه بنده لره اختیار نشته او نه د هغه علم محیط دی. د هر شی اراده چه الله تعالیٰ وفرمائی هم هغه کوی. که څه هم کافران ستاسی دښمنان دی او پر تاسی ظلم کوی خو که الله جل جلاله اراده وفرمائی هغوی ته هدایت کوی. او که ئی اراده وشی عذاب ورکوی. نو ته له خپله ځانه هغوی ته ښیرا مه کوی! په ځینو روایتونو کښی د دی آیتونو شان نزول بل رنګ معلومیږی چه دلته د هغوی د تفصیل لیکلو ځای نشته. په «فتح الباری» کښی څو ځایه پر هغه باندی پوره بحث شوی دی. فلیراجع!

---

وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ يَغۡفِرُ لِمَن يَشَآءُ
وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿١٢٩﴾

---

او (خاص) الله لره دی هر هغه څه چه په آسمانونو کښی دی او هر څه چه په ځمکه کښی دی (سره له آسمانونو او ځمکی ملکاً خلقاً او عبیداً) بښنه کوی الله هر هغه ته چه اراده وفرمائی د ښښنی ئی او په عذابوی الله هر چاته

چه اراده وفرمائی د عذاب ئی او الله ښه ښښونکی (د خطیاتو) ډیر رحم والا دی (د اجر او ثواب په انعام سره)

**تفسیر :** یعنی په ګردو (تولو) آسمانونو او ځمکو کښې د واحد او بی نیاز خدای جل وعلی شانه حکم چلیږی. او دی د هر شی اختیار لری. ګرد (تول)د ده مخلوق او مملوک دی. دی هر څوک چه مناسب او ور (لائق) وبولی د ایمان توفیق ور په برخه کوی. او هر چاته چه اراده وکړی د کفر په سزا ئی رسوی ښائی په آخره کښې د ﴿ وَاللّٰهُ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ﴾ په فرمایلو سره دی ته اشاره وی چه دغو خلقو ته به چه تاسی د دوی په حق کښې د ښیرا کولو اراده درلوده (لرله) ایمان او مغفرت او رحمت ور په برخه شی.

## يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تَاۡكُلُوا الرِّبٰٓوا

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی یعنی ای مؤمنانو! مه خورئ سود!

**تفسیر :** د (احد) د غزا په یادونه کښې د سود ممانعت په ظاهره بی تعلقه ښکاری مګر ښائی له دی مناسبته وی چه پاس په ﴿ اِذۡ هَمَّتۡ طَّآئِفَتٰنِ مِنۡكُمۡ اَنۡ تَفۡشَلَا ﴾ کښې د جهاد په وخت کښې د بی زړه توب د ښودلو ذکر شوی ؤ او د سود له خوړلو څخه بناء پر دوو سببونو بی زړه توب پیدا کیږی.

(١) د حرام مال د خوړلو له امله (وجی) ئی د طاعت توفیق کمیږی حال دا چه ډیر لوی طاعت جهاد دی.

(٢) دا چه سود اخیستل په انتهائی بخل او ممسکی باندی دلالت کوی. ځکه چه سودخور غواړی چه خپل هومره مال بیرته واخلی چه ورکړی ئی ؤ او برسیره پر هغه نوره څه فائده چه تری په لاس ورغلی وی هغه هم ویړیا پری نه ږدی. او د هغه معاوضه هم په جلا (جدا) صورت سره وصول کړی. نو هغه څوک چه په مال کښې دومره بخل او امساک کوی چه د پاک الله په نامه د یوی ذری په اندازه هم همدردی ونه شی کړی نو هغه به د الله جل جلاله په لاره کښې خپل ځان څرنګه جار (قربان) کړی؟ ابوحیان رحمة الله علیه لیکی چه په دی وخت کښې یهودانو او د نورو د سود (سوائی) معاملی له مسلمانانو سره علی الاکثر جاری وی نو ځکه له هغوی ځنی د دی تعلقاتو شکول ډیر مشکل ؤ څرنګه چه پخواله دی نه د ﴿ لَا تَتَّخِذُوۡا بِطَانَةً ﴾ حکم د دوی «په ترک مؤالات» صادر شوی ؤ او د (احد) په قصه کښې هم د یهودانو او د منافقانو حرکت او مداخله ډیره زیاته وه نو ځکه ئی تنبیه وفرمایله چه د سود راکړه او ورکړه پریږدئ! که نه د هغه له سببه به هرومرو (خامخا) د هغو ملعونانو سره ستاسی تعلقات قائم پاتی شی چه په راتلونکی زمانه کښې به د زیان ګاللو (اوچتولو) موجب وګرځی.

## أَضۡعَٰفٗا مُّضَٰعَفَةٗۖ

په دی حال چه دوه چنده پر دوه چنده (وی) .

**تفسیر :** د دی مطلب داسی نه دی چه لږ سود واخلئ! خو دوه چنده او دری چنده ئی مه اخلئ! خبره دا ده چه د جاهلیت په زمانه کښی به خلقو هسی سود او سوائی اخیستل لکه چه نن ورځی ئی د (هندوستان) بنیه ګران اخلی چه سل روپی به ئی ورکولی او د هغه سود به هم سل سل روپی سره تولیدی تر دی چه د سلو روپیو په عوض کښی به د زرهاؤ روپیو د جایداد خاوندان کیدل. هم دا صورت ئی دلته په ﴿أَضۡعَٰفٗا مُّضَٰعَفَةٗۖ﴾ سره تعبیر وفرمایه. یعنی اول خو سود مطلقاً حرام او قبیح دی او بیا دا صورت خو ئی دیر زیات شنیع او بد دی. لکه چه څوک ووائی. «خانه! په مسجد کښی کنځلی مه کوه!» نو د دی خبری مطلب داسی نه کیږی چه له مسجد څخه د باندی د کنځلو اجازه شته بلکه داسی الفاظ د زیات تقبیح او تشنیع په موقع کښی ویل کیږی.

## وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ١٣٠

او وویریږئ له الله ښائی چه په مراد به ورسیږئ (خلاص به شئ تاسی د الله له قهره).

**تفسیر :** یعنی په سود خوړلو کښی هیڅ نیکی نشته بلکه ښیګنه (ښه والی) په دی کښی ده چه له الله جل جلاله څخنی وویریږئ! او د سود خوارک پریږدئ.

## وَٱتَّقُواْ ٱلنَّارَ ٱلَّتِيٓ أُعِدَّتۡ لِلۡكَٰفِرِينَ ١٣١

او وویریږئ ! له اوره هغه چه تیار کړی شوی دی له پاره د کافرانو.

**تفسیر:** یعنی سود خور دوزخ ته ځی چه هغه اصلاً د کفارو له پاره جوړ کړی شوی دی.

## وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ١٣٢

او حکم ومنئ د الله او (حکم ومنئ!) د رسول ( د الله) له پاره د دی چه پر

تاسی رحم وکړی شی.

**تفسیر:** د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حکم منل هم په حقیقت کښی د الله جل جلاله حکم منل دی. ځکه چه هم ده حکم راکړی دی چه مونږ د ده د رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم هم ومنو او د هغه پوره اطاعت وکړو. هغه احمقان چه د اطاعت او عبادت په منځ کښی څه فرق نه کوی د دوی د رسول صلی الله علیه وسلم اطاعت په شرک سره تعبیروی. څرنګه چه د احد په غزا کښی د رسول الله صلی الله علیه وسلم له حکم څخه ځنی مخالفت شوی ؤ لکه چه وروسته راځی نو ځکه د راتلونکی زمانی له پاره تنبیه ورکوله کیږی چه د الله تعالیٰ د رحمت او د فلاح او بری هیله (امید) هلته کیدلی شی چه د الله جل جلاله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خبرو باندی عمل او تګ وکړی شی.

وَسَارِعُوٓا إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ

او تلوار وکړئ په طرف د (هغو اعمالو چه سبب د) مغفرت د رب ستاسی او (سبب د دخول د) جنت (دی).

**تفسیر:** یعنی د هغو اعمالو او اخلاقو په لوری مندی ووهئ! چه د الله تعالیٰ له وعدی سره سم د هغه په کولو سره د بخشش وړ (لائق) او د جنت مستحق ګرځئ.

عَرْضُهَا ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلْأَرْضُ

چه پلنوالی د هغه (لکه پلنوالی د) آسمانونو او ځمکی دی.

**تفسیر:** څرنګه چه د بنیادمانو په مغزو کښی د ځمکو او آسمانونو له وسعت څخه زیات بل کوم وسعت نشی راتلی، نو ځکه ئی د پوهولو له پاره د جنت عرض له هغه سره تشبیه کړ ګواکی دا ئی راوښودل چه د جنت عرض له دی ځنی زیات وګڼئ. کله چه د جنت عرض (سور) دومره وی، نو الله تعالیٰ ته ښه معلوم دی چه د هغه طول (اوږدوالی) به څومره وی؟.

أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ ﴿١٣٣﴾ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ فِى ٱلسَّرَّآءِ وَٱلضَّرَّآءِ

تیار کړی شوی دی دغه (جنت) له پاره د پرهیزګارانو هغه کسان چه نفقه ورکوی (مال لګوی د الله په نامه) په خوښی (یا ارزانی یا شتمنی کښی) او

تکلیف (یا قیمتی یا تنګسه کېښې).

**تفسیر :** یعنی نه په عیش او خوښی کښې الله تعالیٰ هیروی، او نه د تنګسی او تکلیف په وخت کښې د الله تعالیٰ په نامه باندی له ورکړی څخه ځان ساتی. په هره موقع او په هر حال کښې سم له خپله توانه سره د خیراتو او صدقاتو دپاره تیار وی او د سود خورانو په شان بخیلان او خزانه داران نه دی ګواکې سره له بدنی جهاده مالی جهاد هم کوی.

وَالْكٰظِمِيْنَ الْغَيْظَ وَالْعَافِيْنَ عَنِ النَّاسِ ۗ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۳۴﴾

او چه ځغمونکی د قهر دی (سره له قدرته) او عفوه کوونکی دی له خلقو (چه پری وکړی زیاتی او ظلم) او الله خوښوی نیکی کوونکی

**تفسیر :** د قهر او د غصی ځغمل لوی کمال دی. برسیره پر هغه دا دیر ښه او لوی کار دی چه د خلقو تجاوزات او غلطیاتی هم بیخی معافوی. او نه ئی یوازی معافوی بلکه له هغوی سره احسان ـ نیکی هم کوی. غالباً پخواله دی نه د کومو خلقو په نسبت چه د نه ښیرا کولو امر، ارشاد او اشاره ورته شوی وه دلته د هغوی په نسبت د غصی او د قهر ځغمل، او د عفوی او د تیریدلو ځنی د کار اخیستلو ترغیب ورکړی شوی دی. او هم د ځینو اصحابو په نسبت چه د (احد) په غزا کښې ئی د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له حکمه غاړی غړولی وی ـ یا تښتیدلی وو، د تقصیراتو د تیریدلو او د عفوی او احسان د شان اختیارولو په لوری توجه ورکړی شوی ده.

وَالَّذِيْنَ اِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً اَوْ ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ

او هغه کسان کله چه وکړی دوی کومه لویه ګناه یا ظلم وکړی دوی پر ځانونو خپلو باندی (په کولو د ورو ګناهونو)

**تفسیر:** یعنی بیخی په ښکاره دول (طریقه) سره څوک داسی د بی حیائی کوم کار وکړی چه د هغه اثر متعدی وی او نورو ته هم ورسیږی، یا د کوم داسی خراب حرکت مرتکب شی چه د هغه ضرر لازمی او یوازی د ده په ځان پوری محدود وی.

ذَكَرُوا اللّٰهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ ۠ وَمَنْ يَّغْفِرُ الذُّنُوبَ
إِلَّا اللّٰهُ ۠ وَلَمْ يُصِرُّوا عَلٰى مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿١٣٥﴾
أُولٰٓئِكَ جَزَآؤُهُمْ مَّغْفِرَةٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ وَجَنّٰتٌ تَجْرِي
مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ خٰلِدِينَ فِيهَا ۠ وَنِعْمَ أَجْرُ الْعٰمِلِينَ ﴿١٣٦﴾

---

نو یاد کړی دوی الله پس مغفرت وغواړی دوی له پاره د گناهونو خپلو او څوک دی چه مغفرت کوی د (ټولو) گناهونو (هیڅوک ئی مغفرت نه کوی) مگر (مغفرت ئی کوی) الله، او نه کوی مداومت دوی پر هغه گناه چه کړی ده دوی حال دا چه دوی پوهیږی (چه مونږ بد کړی دی). هم دا (متقیان چه ذکر شول) جزاء د دوی مغفرت دی له (جانبه د) رب د دوی او جنتونه دی چه بهیږی لاندی له (ونو او مانیو د) هغو ویالی چه تل به وی دوی په هغو (جنتونو) کښی، او ښومره ښه دی اجر (مزدوری) د عاملینو (دغه مغفرت او جنت).

---

**تفسیر :** یعنی د الله تعالیٰ عظمت او جلال ـ د ده عذاب او ثواب ـ د ده حقوق او احکام د ده د عدالت سره مخامخ کیدل ـ او د ده وعد وعید په زړه کښی یاد کړی، او د ده یادونه په ژبه سره هم شروع کړی، مضطرب او ورخخه ویریږی او په نامه سره ئی وبولی، او د ده د لوئی او کبریاء په مقابل کښی سر په سجده کیږدی (لکه چه د «صلوٰة التوبه» په حدیث کښی راغلی دی) بیا په هغی شرعی طریقی چه د گناهونو د استغفار له پاره مقرره ده عفوه او مغفرت وغواړی. مثلاً د حقدارانو حق اداء کړی، یا له دوی ځخه معافی وغواړی او د الله تعالیٰ په حضور توبه او استغفار وکړی، (ځکه چه اصلی مغفرت کوونکی خو هم دغه پاک الله دی) او په هغی گناه باندی چه د بشریت په مقتضاء سره تری صادره شوی ده مداومت ونه کړی بلکه په دی باندی وپوهیږی چه حق تعالیٰ د بندگانو رښتیانی توبه منی، که دی په ندامت او اقلاع سره توبه وباسی، او د ده په حضور کښی په خلوصیت او انابت سره حاضر شی، نو دغه خلق هم په دوهمه درجه متقیانو کښی داخل دی چه د هغوی له پاره جنت تیار شوی دی حق تعالیٰ د دی تائبینو گناه عفوه کوی، او دوی ته پخپل جنت کښی ځای ورکوی، او هغه توبه او نیک عمل چه دوی کړی وی دوی ته د هغه ډیر ښه عوض ورکول کیږی.

قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِكُمْ سُنَنٌ فَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ ﴿١٣٧﴾

په تحقیق تیری شوی دی پخوا له تاسی ډیری طریقی (د کفارو د هلاک) نو وګرځئ! (تګ وکړئ) تاسی په ځمکه (جهان) کښی پس وګورئ! چه څرنګه ؤ عاقبت (انجام) د نسبت کوونکو د دروغو (رسولانو ته).

**تفسیر :** یعنی پخوا له تاسی څخه ډیر اقوام او ملل تیر شوی دی، او لوئی پیښی شوی دی. او د الله تعالیٰ عادت هم وار په وار معلوم کړی شوی دی. که له دوی ځنی هغه کسان چه د انبیاء علیهم السلام په عداوت، او د حق د تکذیب له پاره ئی ملاوی تړلی دی، او د الله جل جلاله او ده (رسول) له تصدیق او اطاعت څخه ئی مخ اړولی دی، او په حرامخوری او ظلم او عصیان باندی ئی اصرار کړی دی د هغوی انجام څومره خراب شوی دی.! که ستاسی یقین نه وی نو د ځمکی پر مخ باندی وګرځئ!، او ښه تفتیش او تحقیق وکړئ! او د دوی د تباهی علائم او آثار وګورئ چه نن هم ستاسی د مملکت په شاؤ خوا کښی نژدی موجود دی، نو پر دغو واقعاتو د غور کولو څخه د (احد) د غزا دواړو خواؤ ته عبرت او پند په کار دی. یعنی مشرکان چه د الله تعالیٰ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د عداوت لامله (له وجی) ئی د حق د ابطال له پاره ملاوی تړلی وی، پخپل دی لږی او عارضی فتحی او بری باندی دی مغرور نشی! ځکه چه د هغوی آخری انجام بی له هلاکته او بربادی بل هیڅ شی نه دی، او مسلمانان دی د کفارو له سختیو، او د دوی له وحشیتوب، او لاس غځولو، یا د خپلی دی عارضی ماتی ځنی ملول او مأیوس نه وی، چه آخر حق غالب او کامیابیږی، او د پاک الله هم دا سنت او عادت له پخوا راهیسی جاری، او نه بدلیدونکی دی.

هَٰذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ وَهُدًى وَمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِينَ ﴿١٣٨﴾

دا (قرآن) بیان دی له پاره د (تولو) خلقو او هدایت (لار ښوونه) او موعظت (نصیحت) دی پرهیزګارانو ته

**تفسیر :** یعنی د عامو خلقو د غوږونو د خلاصولو له پاره دغه قرآنی مضامین بیانیږی چه د هغو د اوریدلو څخه له الله تعالیٰ ځنی ویریدونکی خلق هدایت او پند اخلی مګر هغه کسان چه د دوی په زړونو کښی د الله تعالیٰ خوف نه وی نو دوی به د نصیحت کوونکو له تنبیهاتو ځنی څه ګټه واخلی؟.

وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٣٩﴾

او مه سستیږئ تاسی! او مه خپه کیږئ تاسی! او هم دا تاسی غالبان یئ که یئ تاسی مؤمنان (په حقه سره).

**تفسیر:** دا آیتونه د (احد) د غزا په باره کښی نازل شوی دی کله چه مجاهدین د ډیرو زخمونو له لاسه توټی توټی وو او د دوی د ډیرو لویو لویو جنګیالیو او نومیالیو شهیدانو غوړونه او پوزی او نور اعضاء پری کړی شوی او مثله وو، او د دوی جنازی تر سترګو لاندی پرتی وی محمد علیه الصلٰوٰة والسلام هم د شقیانو له لاسه په مات غاښ او ژوبل تندی په وینو رنګ په نظر راته او ظاهراً له هر لوری د ماتی او شکست منظره ښکاریده، د دی ناامیدیو او سختیو په هجوم کښی د الله تعالیٰ دا زورور او مؤثر بشارت غوږونو ته ورسید. ﴿وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ﴾ وګورئ! چه له ډیرو سختیو څنی مه ویریږئ! او د الله تعالیٰ د دښمنانو په مقابل کښی نامردی، سستی او بی زړه توب مه کوئ! او په دی درپیښو شویو حوادثو او مصائبو باندی مه غمجن کیږئ! او مات زړه او ورانه خوله مه کینئ چه دا له تاسی سره وړ (لائق) او د مؤمنانو دستور نه دی! او په یاد ئی ولرئ چه هم دا نن هم دا تاسی معزز، سرلوړی، او غیرتمن یئ! چه د حق په حمایت کښی ربړونه ګالئ! (تکلیفونه تیروئ) او ځانونه قربانوئ! نو په یقین سره وروستنی بری هم ستاسی دی! او په پای (اخر) کښی هم دا تاسی غالب او کامیاب یئ خو په دی شرط سره چه د ایمان او ایقان په لاره مستقیم ووسئ! او د الله تعالیٰ پر وعدو پوره باور ولرئ! او له «جهاد» فی سبیل الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له اطاعت څخه قدم بیرته وانخلئ! دا د الله تعالیٰ بشارت ماتو زړونو ته پیوند او مړاوو ځیرو ته نوی ژوند ورعطا کړ او د دوی په جسمونو کښی تازه روح ننوت او نتیجه ئی داسی شوه، هغه کافران چه یو ساعت پخوا له دی نه ظاهراً غالب ښکاریدل، د زخمی او ستړو ستومانو مجاهدینو د انتقامی هجوم په مخ کښی بیاونه شو دریدلی او د خپلو دوو پښو سره ئی دوه نوری پښی په قرض اخیستی سر څوړی مخ په کورونو وتښتیدل.

سستی مه کوی په جنګ کښی، نه خپګان په «ما اصاب»
تاسی یئ د دوی د پاسه ، که ایمان لرئ او آب
تاسی مرئ د رب پر لاری، شهیدان جنت مآب
دوی په لاری د شیطان مری اور ئی ځای غوښی کباب

إِن يَمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِّثْلُهُ ۚ

# وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ

که ورسیږی تاسی ته زخم نو په تحقیق رسیدلی دی قوم (د کفارو) ته (هم) زخم په شان د زخم ستاسی، او دا ورځی (د ژوندون) اړوو راړوو ئی (په وار) په منځ د خلقو کښی،

**تفسیر:** هغه شدید نقصان چه مسلمانانو ته په جنگ کښی رسیدلی ؤ دوی له هغه ځنی ډیر خپه او غمجن وو، برسیره پر هغه د منافقانو او دښمنانو د ډیری طعنی څخه هم ډیر په ربړونو کښی وو. منافقانو به ویل . «که محمد په رښتیا سره د الله رسول وی، نو دومره نقصانونه به ولی ورته رسیدل؟ یا د لړی مودی له مخی به ولی ماتی ورته پیښیدی؟» په دی آیتونو کښی الله تعالیٰ مسلمانانو ته تسلی ورکره، چه که په دی غزا کښی تاسی ته ربړ او تکلیف درپیښ شو، نو تر دی د مخه هم دا راز (قسم) تکلیفونه مقابل لوری ته هم رسیدلی دی. د «احد» په غزا کښی ستاسی (٧٥) سړی شهیدان او ډیر غازیان زخمیان شول، حال دا چه یو کال پخوا له دی نه د «بدر» په غزا کښی د کفارو اویا سړی مردار، ډیر سړی ئی زخمیان اویا تنه ئی گرفتار شول او ړومبی په هم دی «احد» کښی د دوی ډیر جنگیالی مقتول او مجروح شول، لکه چه د ﴿ وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللَّهُ وَعْدَهُ إِذْ تَحُسُّونَهُم بِإِذْنِهِ ﴾ له الفاظو ځنی ښکاره ده . بیا په «بدر» کښی د هغوی اویا تنه سړی په ذلت سره بندیان شول، حال دا چه ستاسی هیڅ یو تن هم دغه ذلت او تحقیر نه دی لیدلی. لنده ئی دا چه خپل نقصان د هغوی له نقصان سره موازنه او پر تله کړئ! څو دغه خبره له ورا درښکاره شی چه تاسی ته د غم او خپگان هیڅ یوه موقع نه ده پاتی او نه هغوی دغسی سترگی لری چه د خپل غرور او تکبر سرونه لړ څه ورپورته کړی.

کله وی پر مونږ، کله بیا شی زمونږ ـ کله شو خپه ، کله وی خوښی زمونږ

باقی زمونږ عادت له پخوا څخه هم داسی دی چه سختی، او نرمی، زحمت او راحت، مشقت او آسانی، عزت او ذلت راولو او د هغو ښو ورځو تقابل، تل له بدو ورځو سره کوو کله شپه کړو، کله ورځ، کله ژمی کړو، کله اوړی، کله سمسور کړو کله خمسور، کله وریځ کړو کله شین، کله وچ کړو، کله زرغون، او همیشه د خلقو حال احوال سره بدلوو او د نن خوند د سبا په ژوند کښی ړدو، چه په دی کښی ډیر حکمتونه پټ او اسرار مضمر دی بیا کله چه کفار سره له دومره ربړ گاللو (سختی تیرولو)، د باطل له حمایت ځنی لاس نه اخلی، نو تاسی مؤمنان به د حق په حمایت او نصرت کښی ولی بی زړه کیږی؟ او دومره تردد او اندیښنه به ښکاروئ؟ حال دا چه له هر رنځ ځنی گنج په لاس، او په هری تیاری پسی د رڼا احساس کیږی.

بی له ربړه هوسائی نشته هیچیری　　زحمت گالی راحت مومی خلق هر چیری

څو چه ځان خپل په اغزو نه کاندی څیری　　په وصال به د گل ښاد نشی هیچیری

## وَلِيَعْلَمَ اللّٰهُ الَّذِينَ اٰمَنُوْا

او له پاره د دی چه معلوم کړی الله هغه کسان چه ایمان لرونکی دی (په علم الشهود سره هم)

**تفسیر :** یعنی د دی له پاره چه الله تعالیٰ رښتین ایمان لرونکی له منافقانو ځنی جلا (جدا) کړی او د دواړو رنګونه او بنی جلا جلا (جداجدا) په نظر راشی.

## وَيَتَّخِذَ مِنْكُمْ شُهَدَآءَ ؕ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ ۙ﴿۱۴۰﴾

او (بل له پاره د دی چه) ونیسی (الله) له تاسی شهیدان، او الله نه خوښوی ظالمان (کافران).

**تفسیر:** له ظالمانو ځنی که د مشرکانو هغه ډله مراد وی چه د (احد) په غزا کښی د مسلمانانو په مخامخ کښی ولاړ وو نو مطلب به ئی داسی کیږی چه د دوی د دی عارضی بری سبب دا نه دی چه پاک الله له دوی سره محبت لری بلکه دا بری نورو اسبابو باندی بنا دی. او که له ظالمانو څخه هغه منافقین مراد وی چه په عین موقع کښی له مسلمانانو ځنی جلا (جدا) شول نو دا راښکاروی چه دوی د الله تعالیٰ په نزد مبغوض دی نو ځکه د ایمان او شهادت له لوئی درجی ځنی بی برخی او لکه مرداره لری وغورځول شول.

## وَلِيُمَحِّصَ اللّٰهُ الَّذِينَ اٰمَنُوْا وَيَمْحَقَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۴۱﴾

او (بل دپاره د دی چه پاک او صاف کړی) الله (له ګناه) هغه کسان چه ایمان لرونکی دی او هلاک کړی (الله) کافران.

**تفسیر :** یعنی ماتی او بری دواړه بدلیدونکی شیان دی. خو په دی غزا کښی ئی مسلمانانو لره د شهادت د لوړی درجی ورکړه مطلوب وه او د مؤمنانو او منافقانو آزموینه او معلومول یا له ګناهونو ځنی پاکول مقصود ؤ او په ورو ورو سره د کافرانو فنا او محو کول منظور ؤ چه هغوی په عارضی غلبی او موقتی بری باندی مسرور او مغرور شی او په کفر او طغیان کښی له پخوا نه لا زیاته ترقی او پرمخ تګ وکړی او ښه پکښی بوخت او لګیا شی او د الله تعالیٰ د قهر او غضب ښه وړ (لائق) او مستحق وګرځی، نو د دی له امله (وجی) دا عارضی ماته د مسلمانانو په برخه شوه که نه پاک الله له کفارو ځنی خوښ او راضی نه دی.

أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللَّهُ الَّذِينَ جَاهَدُوا مِنْكُمْ وَيَعْلَمَ الصَّابِرِينَ ﴿١٤٢﴾

(بلکه) آیا گمان کوئ تاسی (ای تبنتیدونکو په احد کښی) د دی چه ننه به وځئ جنت ته حال دا چه معلوم کړی به نه وی الله (په علم الظهور سره هم) هغه کسان چه جهاد ئی کړی دی له تاسی څخنی او (نه دی په علم الظهور سره) معلوم کړی (الله) صابران (ثابتان په سختیو کښی)

**تفسير :** یعنی الله تعالیٰ تاسی د جنت په دغه اعلی مقاماتو او لوړو درجو رسوی نو آیا تاسی داسی ګڼئ چه هم داسی بی له هیڅ ربړ ګاللو (سختی تیرولو) څخه آرام هم هغه ځای ته رسیږئ! او الله تعالیٰ به له تاسی څخنی څه پوښتنه نه کوی؟، او امتحان به له تاسی نه اخلی؟ چه څومره کسان له تاسی څخنی د الله تعالیٰ په لاره کښی جنګیدونکی؟ او څومره کسان د جنګ په وخت کښی ثابت قدم پاتی کیدونکی دی؟ داسی خیال مه کوئ ځکه چه لوړو ځایونو ته هم هغه سړی رسیدلی شی چه د الله تعالیٰ په لاره کښی هر ډول (قسم) مصائب او متاعب پر ځان آخلی، ربړونه ګالی (مشکلات تیروی) او د ځان قربانولو او مصاعبو له پاره تل تیار ولاړ وی.

رښتین مین د دار او پړی وروی هرکله    دا لویه مرتبه کله بیا مومی هر سړی

وَلَقَدْ كُنْتُمْ تَمَنَّوْنَ الْمَوْتَ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَلْقَوْهُ فَقَدْ رَأَيْتُمُوهُ وَأَنْتُمْ تَنْظُرُونَ ﴿١٤٣﴾ ع

او خامخا په تحقیق وئ تاسی چه آرزو به مو کوله د مرګ پخوا له هغه چه تاسی پیښیدئ پر دغه (مرګ) نو په تحقیق ولید تاسی دا (مرګ) حال دا چه تاسی (ورته) کتل.

**تفسير :** هم هغه اصحاب الکرام رضی الله عنهم چه د «بدر» د غزا له شرکته بی برخی پاتی وو، دوی د (بدر) د شهیدانو د ډیرو فضائلو له اوریدلو څخنی داسی تمنا او آرزو کوله چه کاشکی الله جل جلاله بیا موقع راولی، چه مونږ هم د الله تعالیٰ په لاره کښی ووژلی شو او د شهادت دا لوړه مرتبه حاصله کړو. هم دی حضراتو د «احد» په غزا کښی دغه مشوره وړاندی کړی وه چه راځئ! له مدینی منوری نه د باندی ووځو!، او هلته له غلیم سره وجنګیږو!. دوی ته

فرمائی هغه شی چه تاسی ئی تمنا کوله، ستاسی تر سترگو لاندی راغی، نو اوس د پرمخ تگ په ځای، بیرته ولی ځان باسئ؟ په حدیث کښی راغلی دی چه «د دښمن د لیدلو تمنا مه کوئ! مگر که ورسره مخامخ شوئ، نو ثابت قدم اوسئ»

---

وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ ۚ أَفَإِن مَّاتَ أَوْ قُتِلَ انقَلَبْتُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ ۚ وَمَن يَنقَلِبْ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ فَلَن يَضُرَّ اللَّهَ شَيْئًا ۗ وَسَيَجْزِي اللَّهُ الشَّاكِرِينَ ﴿١٤٤﴾

---

او نه دی محمد مگر (دی) یو رسول (د الله)، په تحقیق تیر شوی دی له ده نه پخوا (ډیر) رسولان، آیا نو که مړ شی (محمد) یا شهید کړی شی (محمد) نو بیرته به وگرځئ تاسی پر پوندو خپلو (کفر ته)، او هر څوک چه بیرته وگرځید، په پوندو خپلو (کفر ته) نو له سره به زیان ونه رسوی الله ته هیڅ شی، او ژر به جزا ورکړی الله شکر گزارو ته (د اسلام په نعمت).

---

**تفسیر :** واقعه دا ده چه د «احد» په غزا کښی نبی کریم صلی الله علیه وسلم د جنگ نقشه بالذات پخپله جوړه کړه. د گردو (تولو) صفونو له جوړولو څخه وروسته یوه دره پاتی شوه چه له هغی دری (وت) څخه اندیښنه وه چه د کفارو لښکر د شا له لوری یرغل (حمله) رانه وړی. نو د دی دری په یوی لوړی څوکی کښی رسول الله مبارک پنځوس تنه زورور غشی ویشتونکی وټاکل (مقرر کړل) چه د هغوی رئیس حضرت عبدالله بن جبیر رضی الله عنهم ؤ. او پر دوی ئی زیات تاکید وکړ چه «مونږ په هر حالت چه یو، ودی اوسو، خو تاسی هرومرو (خامخا) هم دا څوکه وساتئ! او پخپلو غشو سره د هم دغی دری ساتنه وکړئ! اعم له دی نه چه نور مجاهدین غالب وی، که مغلوب، تر دی که تاسی وویني. چه مرغان د هغوی غوښی خوری، خو بیا هم له خپله ځایه مه خوځیږئ!. «**وانا لن نزال غالبين ماثبتم مكانكم** ـ (بغوی) مونږ تر هغه وخته پوری بریالی (کامیاب) یو خو تاسی دا ځای ټینگ وساتئ! » الغرض وروسته له دی چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم گرد (تول) فوځ ته پوره هدایت ورکړ، بیا په «جهاد» باندی شروع وشوه. د غزا میدان ښه تود ؤ. اسلامی غازیان به کامیاب او وړاندی کیدل او د خپل شجاعت جوهر به ئی ښکاراوه. د ابودجانه، علی مرتضیٰ او نورو مجاهدینو رضی الله عنهم د توری او بهادرئ په مقابل کښی د قریشو د مشرکینو ملاوی ماتی شوی او پرته (علاوه) له تیښتی بله هیڅ یوه لاره دوی ته پاتی نشوه او حق سبحانه و تعالیٰ د خپل نصرت موعوده وعده پوره کړه او کفارو ته سخته ماتی ورپیښه شوه نو له ویری ځنی مخ په تیښته شول د دوی ښځی چه د غیرت

ورکولو او جوش پیدا کولو له پاره راغلی وی خپلی پینځی په لاس نیولی تښتیدی او پر ویره سره ئی هر لوری ته منډی وهلی. مجاهدینو د غنیمت پر اموالو باندی قبضه کول شروع کړل کله چه دغه نندارہ هغو (٥٠) تنو غشو ویشتونکو ته ورښکاره شوه نو ئی داسی گومان وکړ چه گواکی فتح کامله شوه او دښمن تښتی، نو زمونږ دلته چتی (بیکاره) کیناستل څه په کار دی؟ ښه خو دا ده چه د غلیم تعقیب وکړو او په غنیمت کښی هم خپله برخه واخلو عبدالله بن جبیر(رضی الله عنه) د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم توصیه او ارشاد دوی ته ور په یاد کړ، خو دوی هسی وګڼل چه لکه مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم اصلی مقصد او هدف بیخی پوره کړی دی اوس نو په دی ځای کښی ولی وزګار کینو په دی خیال کښی ګرد (تول) تیروتل. یواځی عبدالله بن جبیر رضی الله تعالیٰ عنه له (١١) تنو نورو ملګرو رضی الله تعالیٰ عنه سره د هغی دری د ساتنی له پاره پاتی شول. د مشرکینو سواره (رساله) د خالد بن ولید په ریاست چه تر دغه وخته پوری په اسلام سره لا مشرف شوی نه ؤ د تیښتی په منځ کښی یو ځلی بیرته واپس شوه او د هم هغی دری له لوری ئی پر مسلمانانو حمله (یرغل) یووړ، لسو دولسو غشو ویشتونکو ونشو کولی چه د هغو (٢٥٠) تنو سورو مخه ونیسی، خو سره له هغه هم عبدالله بن جبیر سره د خپلو ملګرو رضی الله عنهم ښه په بهادریٔ سره تر دی حده پوری مدافعه وکړه چه ځانونه ئی ګرد (تول) سره قربان کړل. مسلمانان مجاهدین چه د شا له جانبه بیخی مطمئن وو ناڅاپه پر دوی باندی د مشرکانو سواره ورغلل او د مخی له لوری د مشرکینو هغه فوځونه هم بیرته وروګرځیدل چه پخوا له دی نه تښتیدلی وو او سخت جنګونه سره ونښتل او مجاهدین بیخی د کفارو له لوری محصور او سخت ویروونکی جنګ ته مجبور شول نو ځکه ډیر مسلمانان سره شهیدان او زخمیان شول. په هم دی تهلکه او پریشانی کښی (ابن قمیئه) یوه غته تیږه (ګټه) د رسول الله مبارک په لوری وروویشته چه د هغی په اثر د رسول الله مبارک پاک غاښ شهید او چهره منوره ځیره ئی زخمی او ژوبله شوه (ابن قمیئه) غوښتل چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم وژلو ته هم اقدام وکړی مګر اسلامی علم وړونکی مصعب بن عمیر رضی الله تعالیٰ عنه مدافعه وکړه خو رسول الله مبارک د زخم له شدته پر ځمکه ولوید، کوم شیطان غږ وکړ. چه «محمد ووژل شو!» د دی بدی خبری په اوریدلو سره مسلمانان وارخطا شول او پښی ئی سستی شوی، او لاس تر زنی پاتی شول. ځینی مسلمانان مبهوت او حیران کیناستل ځینو ضعفاؤ ته هسی یو خیال پیدا شو چه د مشرکانو له رئیس ابوسفیان ځنی پناه وغواړی. ځینو منافقانو وویل. «کله چه محمد ووژل شو نو مونږ اسلام بیخی پریږدو، او خپلو پخوانیو مذهبونو ته بیرته ګرځو» په دی وخت کښی انس ابن النضر د انس بن مالک «رض» تره وویل «که محمد صلی الله علیه وسلم په شهادت ورسید نو د محمد صلی الله علیه وسلم رب خو ژوندی دی او وروسته د محمد صلی الله علیه وسلم له شهادت څخه زمونږ ژوند څه په کار دی؟ په دی مبارکه لاره کښی چه رسول الله مبارک خپل ځان قربان کړی دی، ښائی چه مونږ هم ځانونه قربان کړو!» دا ئی وویل او پر کفارو ئی حمله او یرغل ورووړ او د جنګ ډګر ته لکه زمری ور ورواندی شو او تر هغه پوری په بهادریٔ وجنګید، چه په شهادت ورسید. رضی

الله عنه!. په دی وخت کښی د رسول الله مبارک غږ پورته شو.
«**الی عباد الله! انا رسول الله** - زما په لوری راشئ! ای بندگانو د الله زه د الله رسول یم.
کعب بن مالک رضی الله عنه د رسول الله مبارک غږ وپیژاند او چیغه ئی وکړه. «ای مسلمانانو!
زیری می درباندی چه رسول الله مبارک لله الحمد ژوندی دی!» دلته د دی غږ د اوریدلو په اثر
گردو (تول) مسلمانانو هم هغه لور ته ورتګ شروع کړ او سم د لاسه (٣٠) تنه اصحاب د ده
مبارک په گرد (تول) چاپیر کښی سره غونډ شول او په سخته مدافعه ئی شروع وکړه او د
مشرکانو فوځ ئی بیا سره تیت او پرک (منتشر) کړ. په دی موقع کښی سعد بن ابی وقاص،
طلحه، ابو طلحه، قتاده بن النعمان او نورو اصحابو رضی الله عنهم اجمعین ډیر زیات ربړونه
وګالل (تکلیفونه تیر کړل) او خپل سرونه ئی پخپلو ورغویو کښی ونیول او سخت جنګونه ئی له
کفارو سره وکړل تر دی چه مشرکانو بیخی میدان پریښود او بیا تیښتی ته اړ او مجبور شول.
او دا آیت نازل شو. ﴿ وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ ﴾ الآیة - یعنی محمد صلی الله علیه وسلم هم یو بنده
او رسول د الله دی، خدای خو نه دی، له ده څخنی پخوا ډیر رسولان تیر شوی دی چه وروسته له
هغوی څخنی د هغوی تابعانو د هغوی دین ساتلی دی. او خپل ځان او مال ئی تری جار (قربان)
کړی دی. مګر هغه دین ئی له لاسه نه دی ایستلی. او تل ئی قائم ساتلی دی. د رسول الله صلی
الله علیه وسلم انتقال له دی فانی دنیا څخنی کومه د تعجب خبره نه ده که دا وخت نه وی نو په
بل کوم وخت کښی خو هرومرو (خامخا) دی وفات کیږی که کوم وخت دی وفات یا بالفرض
په شهادت ورسیږی، نو آیا تاسی به د دین له خدمت، یا د هغه له حفاظت نه ژر تر ژره پر
خپلو پوندو بیرته گرځئ؟ او له «جهاد» فی سبیل الله څخنی به مخ اړوئ؟ لکه چه اوس د ده د
قتل د خبر له اوریدلو څخنی ډیر کسان بی حوصلی شول او له پښو ولویدل یا د منافقینو له مشورو
سره سم العیاذ بالله بیخی له دین څخینی مخ اړوئ؟ او بیرته کافران کیږئ؟ له تاسی څخینی داسی
هیله هیڅکله نه کیږی، که څوک داسی وکړی نو خپل ځان ته به نقصان ورسوی او الله تعالیٰ ته
هیڅ زیان نشی رسولی الله جل جلاله ستاسی مرستی (مدد) ته محتاج نه دی، بلکه تاسی شکر
وکړئ که هغه تاسی ته د دین لار نه وی دربښودلی او د دین په خدمت کښی ئی نه وی مشغول
کړی نو ستاسی حال به څه ؤ؟
«مه برده ته احسان په چا چه کوم خدمت د قوم
قوم بردی احسان په تا چه کوی خدمت د قوم»
او شکر هم دا دی چه مونږ لا زیات د دین په خدمت کښی مضبوط او ثابت قدم اوسو. په دی
کښی اشاره ده چه د رسول کریم صلی الله علیه وسلم د وفات په تقریب کښی به څخینی خلق له
دین څخه اوړی. او هغه کسان چه په دین باندی قائم پاتی وی هغوی ته به لوی اجر وی لکه چه
هم داسی پیښه هم وشوه چه ډیر خلق مرتدان شول او د صدیق اکبر رضی الله تعالیٰ عنه په وسیله
بیرته په اسلام مشرف شول او څخینی تری ووژل شول.
**تنبیه :** ﴿ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ ﴾ **کښی** ﴿ خَلَتْ ﴾ **به له «خلو»** څخنی مشتق وی. چه معنی

ئی تیریدل، گوښی کیدل، تلل دی. او له هغه سره موت لازم نه دی لکه چه پاک خدای جل جلاله فرمائی. ﴿ وَإِذَا لَقُوكُمْ قَالُوٓا ءَامَنَّا وَإِذَا خَلَوْا عَضُّوا عَلَيْكُمُ ٱلْأَنَامِلَ ﴾ یعنی کله چه تاسی پرېږدی او جلا (جدا) کیږی. او هم په «الرسل» کښی استغراقی لام نه دی بلکه جنسی دی، ځکه چه د مدعا په اثبات کښی استغراق لره هیڅ دخل نشته عیناً د هم دی جملی په شان د مسیح علیه السلام په نسبت ئی هم فرمایلی دی چه ﴿ مَّا ٱلْمَسِيحُ ٱبْنُ مَرْيَمَ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ ٱلرُّسُلُ ﴾ آیا دلته که لام استغراقی واخیست شی، نو د هغه معنی به داسی کیږی.
ګرد (تول) رسولان له مسیح علیه السلام څخه پخوا تیر شوی دی، او هیڅوک نه دی پاتی چه وروسته له هغه ځنی مبعوث شی، نو لامحاله لام جنسی اخلو، نو هم هغه دی دلته هم ونیوه شی. د هغه تائید له دی ځنی هم کیږی، چه د عبدالله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه په مصحف کښی او د ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه په قرأت «الرسل» نه بلکه (رسل) «نکره» ده. باقی د (خلو) په تفصیل کښی یوازی د موت یا د قتل ذکر د دی له امله (وجی) کری شوی دی، چه طبیعی موت خو په هر حال راتلونکی ؤ او د قتل خبر په هم هغه وخت کښی مشهور کری شوی ؤ. او څرنګه چه د موت د صورت وقوع مقدره وه نو ځکه پر قتل باندی مقدم کړ شو. د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات په تقریب کله چه ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه د اصحابو په مجمع کښی دا پوره آیت تر ﴿ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴾ پوری، بلکه د﴿ إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ ﴾ آیت ئی هم ولوست. نو خلق ﴿ قَدْ خَلَتْ ﴾ او د ﴿ أَفَإِيْن مَّاتَ ﴾ او د ﴿ إِنَّكَ مَيِّتٌ ﴾ او د «خلو» ځنی، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د (خلو) او د موت په عدم استبعاد او جواز متنبه شول، چه هم دا د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه غرض ؤ د موت په وقوع باندی نه ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه په دی سره استدلال وکړ او نه بل څوک پری وپوهیدل که دغو الفاظو د موت د واقع کیدلو خبر ورکولی نو بایده ؤ چه د دی آیت د نزول وخت یعنی اوه کاله پخوا له دی نه وګانه شی، چه رسول الله صلی الله علیه وسلم پکښی وفات شوی دی. په دی تقریر سره د ځینو محرفینو ګرد (تول) تحریفات «هبأ منثورا» کیږی مونږ د زیات تطویل له خوفه زیات بسط نه شو ورکولی. خو علماؤ ته مو څه اشاری وکری.

---

# وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَن تَمُوتَ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ كِتَٰبًا مُّؤَجَّلًا ۗ

---

او نشته هیڅ نفس لره دا چه مړ شی مګر په اذن (حکم) د الله سره چه لیکلی شوی دی (دا مرګ) په یوه مقرر وخت کښی (چه نه وړاندی او نه وروسته کیږی)،

---

**تفسیر :** نو هر کله چه هیڅوک بی د الله تعالیٰ له حکمه نه شی مړ کیدی اګر که د موت دیر اسباب هم سره غوند شوی وی او د هر سری موت په مقرر وخت کښی راتلونکی دی اعم له

دی چه د ناروغی له امله (وجی) وی که د قتل یا په بل سبب سره نو پر الله تعالیٰ باندی توکل کوونکو ته له دی مرگه ویریدل نه ښائی او نه د کوم لوی یا واړه د موت د اوریدلو له خبره ښائی چه سری مایوس او نا امیده شی، او بیخی غمجن کینی.

چه له مرگه خلاصون نشته ای مؤمنه
غزا کره ! په اخلاص د زړه په مینه
له خپله وخته به ړومبی تا څوک مر نه کړی
که هر څو په زړه لری څوک درته کینه
چه په تیښته څوک له مرگه نه خلاصیږی
غازی ښائی په غزا کښی د غلیم کړی تویه وینه

وَمَن يُرِدْ ثَوَابَ الدُّنْيَا نُؤْتِهِ مِنْهَا ۚ

او هر څوک چه غواړی (په عمل خپل سره بدل) ثواب د دی دنیا نو ور به کړو مونږ هغه ته له هم دغه (دنیوی بدل)

**تفسیر :** یعنی که الله جل جلاله اراده وفرمائی. لکه چه په (١٥) جزء د (بنی اسرآئیل) په ١٨ آیت (٢) رکوع کښی مونږ داسی یو آیت لولو. ﴿ عَجَّلْنَا لَهُ فِيهَا مَا نَشَاءُ لِمَن نُّرِيدُ ﴾

وَمَن يُرِدْ ثَوَابَ الْآخِرَةِ نُؤْتِهِ مِنْهَا ۚ

او هر څوک چه غواړی (په عمل خپل سره بدل) ثواب د آخرت نو ور به کړو مونږ هغه ته له هم دغه (آخروی ثواب)

**تفسیر:** یعنی هغه به په آخرت کښی هرومرو (خامخا) خپل بدل مومی. د دی آیت په ړومبی جمله کښی پر هغو کسانو باندی تعریض دی، چه هغوی د غنیمت د مال په طمع کښی له حکم څخه عدول کړی ؤ او په دوهمه کښی د هغو کسانو ذکر دی، چه پر فرمان منلو باندی برابر ثابت قدم پاتی وو.

وَسَنَجْزِي الشَّاكِرِينَ ﴿١٤٥﴾

او ژر به جزا (ثواب) ورکړو مونږ شکر گزارو (احسان منونکو) ته.

**تفسیر:** یعني هغه کسان چه پر دغه دین ثابت قدم پاتي کیږي، هغوی ته هم په دین او هم دنیا کښي اجر ور په برخه کیږي. خو که څوک د دی لوی نعمت په قدر باندی وپوهیږي. (کذا فی الموضح)

---

وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيٍّ قَٰتَلَ مَعَهُۥ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ فَمَا وَهَنُوا۟ لِمَآ أَصَابَهُمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَمَا ضَعُفُوا۟ وَمَا ٱسْتَكَانُوا۟ ۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿١٤٦﴾

---

او ډیر له انبیاؤ څخني وو چه د دوی په مرسته (مدد) جنګیدلي وو رباني سړی (د الله طالبان) ډیر (له حده تیر) نو هیڅ قدر به نه سستیدل هغوی له سببه د هغه تکلیفه چه رسیدلي به ؤ دوی ته په لاره د الله کښي او نه به ضعیفان کیدل (په جنګ کښي) او نه به سر ټیټاوه دوی (دښمن ته)، او الله خوښوی صبر کوونکي (ثابت قدمان په سختیو کښي نو ورته ورکوی ثواب)

---

**تفسیر:** یعني له تاسي څخه پخوا ډیر د الله تعالیٰ خاص بندګان له انبیاؤ علیهم السلام سره مله شوی، له کفارو سره ئي جنګ کړی دی چه په هغو کښي ډیر زیات تکالیف او ربړونه ئي ګاللي (تیر کړی) دی. خو په دغو شدائدو او مصائبو کښي هم د هغوی په ارادو کښي هیڅ یوه سستي نه وه واقع شوی، نه ئي همت بایلودلي ؤ، نه ئي خپل ځان کمزوری ښکاراوه، نه ئي د دښمن په مخ کښي سر ښکته کاوه الله تعالیٰ له هسي ثابت قدمو بندګانو سره خاص محبت لری. په دی سره هغو مسلمانانو ته تنبیه ورکوی او په غیرت ئي راولي چه په «احد» کښي له دوی څخني کمزوری څرګنده شوی وه. حتیٰ څینو داسي هم ویلي وو چه د پخوانیو امتونو پر موحدانو باندی د حق په لاره کښي راز راز (قسم قسم) مصائب او شدائد راغلل او دوی پکښي خپل زیات صبر او استقامت ښکاره کړ، نو تاسي (چه خیر الامم یئ) له هغو څخني زیات خپل صبر او استقامت ښکاره کړئ!

---

وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ إِلَّآ أَن قَالُوا۟ رَبَّنَا ٱغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسْرَافَنَا فِىٓ أَمْرِنَا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَٱنصُرْنَا عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿١٤٧﴾

او نه وه وینا د دوی (یعنی وینا د مجاهدینو) مگر دا چه ویل دوی ای ربه زمونږه! مغفرت کړه مونږ ته گناهونه زمونږ! او له حده تیریدل زمونږ! په (دی) کار زمونږ کښې او ثابت (تینگ کړه) قدمونه زمونږ (په طاعت خپل کښې)! او مرسته (مدد) وکړه له مونږ سره پر قوم کافرانو!

---

**تفسیر:** یعنی د مصائبو او شدائدو په هجوم کښې ئی نه د ویرې کومه خبره وویله او نه له مقابلې څخنی ستانه (واپس) شول، او نه ئی د دښمن اطاعت ومانه، نه ئی یوه خبره له خپلې خولې څخنې وویسته، که ئی وویل خو هم دا ئی وویل «ای خدایه! ته زمونږ تول تقصیرات عفوه کړه! او زمونږ گرد (تول) تیرې رامعاف کړه! او زمونږ زړونه مضبوط او ثابت وساته! څو زمونږ قدمونه د حق له لارې څخنې ونه ښویږي، او مونږ ته د کافرانو په مقابله کښې مرسته (مدد) راکړه!» دوی هسې گڼې چه دیر ځلې د مصائبو په راتگ کښې د خلقو گناهونه او د هغوی تقصیرات دخل لرې او له مونږ څخنې کوم سرې داسې دعویٰ کولې شي چه له هغه څخنې هیڅکله هیڅ یو تقصیر نه دی صادر شوی په هر حال د دی په ځای چه له مصیبت څخنی سرې وویریږي او خلقو ته پناه یوسی، ښه خو دا ده چه پاک پروردگار ته پناه یوسی او هغه مالک الملک والملکوت صاحب الکبریاء والجبروت ته دی سرښکته کړی.!

---

فَاٰتٰىهُمُ اللّٰهُ ثَوَابَ الدُّنْيَا وَحُسْنَ ثَوَابِ الْاٰخِرَةِ ۗ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ۝

---

نو ورکړ دوی ته الله ثواب د دنیا او ښه ثواب د آخرت، او الله خوښوی نیکی کوونکی (په دنیا کښې په نعمت او په عقبا کښې په جنت).

---

**تفسیر :** یعنی په دنیا کښې ئی د هغوی فتحه او ظفر په برخه کړ، وجاهت او قبول ئی ورعطا کړ او د آخرت لوی ثواب ئی په برخه شو. وگورئ! هغه کسان چه له الله تعالیٰ سره خپله معامله په ښه دول (طریقه) سره ساتی او ښه کارونه کوی له هغوی سره الله تعالیٰ داسې محبت کوی او هغوی ته داسې ثمره ورکوی.

---

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تُطِيْعُوا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يَرُدُّوْكُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ فَتَنْقَلِبُوْا خٰسِرِيْنَ ۝

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو!) که اطاعت وکړئ تاسي د هغو کسانو چه کافران شوی دی نو بیرته به وګرځوی دغه (کفار) تاسي په پوندو ستاسي (د کفر خوا ته) نو وبه ګرځئ تاسي زیانکاران (یعنی بیا به مو کافران کړی)

**تفسیر:** د (احد) په غزا کښې کله چه د مسلمانانو زړونه مات شول، نو کافرانو او منافقانو موقع ومونده، ځینو الزام اړاوه او طعنی ئی ورکولی. ځینو د خیر غوښتلو په پرده کښې په نصیحت باندی شروع وکړه چه وروسته له دی نه په جنګ کښې بیا داسي زړورتوب ونه کړئ! حق تعالیٰ خبر راکوی چه «ای مسلمانانو! د دښمنانو پر خبرو باندی مه غولیږئ! الله جل جلاله دی ونه کړی که تاسي د هغو په لومه (دام) کښې ایسار شوئ، نو بیا به په هم هغه تیاره کښې چه ورځنی وتلی یئ ژر تر ژره ولویږئ! او ورو ورو به د حق دین لمن ستاسي له لاسه خوشی شي چه د هغه نتیجه د دنیا او آخرت له خساری څخه پرته (علاوه) بل شي نه دی.» پرومبی ئی د الله تعالیٰ د خاصو بندګانو پر لاره باندی د تللو ترغیب ورکړ، دلته د بدانو او شریرانو د خبرو له اوریدلو څخنی منع کوی چه مسلمانان هوښیار شي او خپله ګټه او زیان وسنجوی (معلوم کړی). (نو الله فرمائی له دښمنانو سره خپلوی مه کوئ او خبره ئی مه اورئ!)

بَلِ اللّٰهُ مَوْلٰىكُمْ ۚ وَهُوَ خَيْرُ النّٰصِرِيْنَ ﴿١٥٠﴾

بلکه الله مولیٰ مرسته (مدد) کوونکی، یار، دوست لرونکی) ستاسي دی او هم دی خورا(ډیر) ښه د تولو مرسته (مدد) کوونکو دی.

**تفسیر:** نو ځکه ښائی د هم دغه الله تعالیٰ چه زموږ مولیٰ او (خیر الناصرین) دی، خبره ومنله شي! او په مرسته (مدد) باندی ئی اطمینان وشي! د هر چا چه مددګار الله تعالیٰ وی، هغه به دی ته څه احتیاج لری چه د الله تعالیٰ د دښمنانو د معاونت او مرستی انتظار ولری، یا به د هغوی په مخ کښې د اطاعت غاړه ږدی. په حدیث کښې راغلی دی چه له «احد» نه د بیرته ورتګ په وخت کښې ابوسفیان د یوه مشهور بت «هبل» د بری غږ پورته کړ او وی ویل «**لنا العزیٰ ولاعزیٰ لکم**» رسول الله مبارک وفرمایل «**الله مولینا ولا مولیٰ لکم**»

سَنُلْقِيْ فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا الرُّعْبَ بِمَآ اَشْرَكُوْا بِاللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطٰنًا ۚ وَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ ۭ وَبِئْسَ مَثْوَى الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٥١﴾

ژر به وغورځوو مونږ په زړونو د هغو کسانو کښی چه کافران شوی دی رعب (هیبت ـ ویره) په سبب د شریک نیولو د دوی په الله سره هغه شی چه نه دی نازل کړی (الله) په (شریک نیولو د) هغه کوم برهان (دلیل) او ځای د هستوګنی د دوی اور (د دوزخ) دی، اوبد ځای دهستوګني دظالمانو دی (دااوردوزخ).

**تفسیر:** یعنی دا خو ستاسی امتحان ؤ اوس به مونږ د کافرانو په زړونو کښی ستاسی داسی هیبت او رعب او ویره واچوو، چه دوی به د دی زخمی توب، کمزوری او زیانمن کیدلو ستاسی، بیا د بیرته مخ اړولو جرأت ونشی کړی لکه چه هم داسی هم وشو. ابوسفیان سره له خپلو فوځونو د جنګ له میدانه نا امیده وتښتید. په لار کښی داسی خیال ورته پیدا شو چه «مونږ ولی یو اسلامی ستری ستومان ژوبل فوځ همغسی خوشی پریښود؟ او ولی تری راغلو؟ راځئ! چه بیرته وګرځو او د دوی کار سره تمام کړو.» مګر د حق تعالیٰ د هیبت او د اسلام د رعب په اثر ئی همت ونشو کړی. چه دا خیال عملی کړی. پرته (علاوه) له دی مسلمانانو مجاهدینو تر (حمراء الاسد) پوری کفار تعقیب کړل او وروسته له هغه ئی بیا کفارو ته هیڅ موقع ورنه کړه چه د «احد» واقعات بیا اعاده شی.

**تنبیه:** مشرک که څه هم خپل ډیر زور ښکاره کړی خو د هغه زړه کمزوری وی ځکه چه هغه د کمزور مخلوق عبادت کوی، نو څنګه ئی معبود، هم همغسی ئی عابد ﴿ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوبُ﴾ (۱۷ جزء د الحج ۷۳ آیت ۱۰ رکوع) او په رښتیا سره هم اصلی زور او قوت د الله تعالیٰ په تائید او مرستی (مدد) سره دی چه له هغی څنی مشرکین او کفار بیخی بی برخی دی. نو ځکه تر هغه پوری چه مسلمانان حقیقی مسلمانان وو، تل کفار له دوی څنی خائف او مرعوب وو. بلکه تر نن پوری هم مونږ مشاهده کوو چه د مسلمانانو د سخت انتشار، تشتت، ضعف او تنزل سره سره د دنیا ګرد (تول) کافران له دوی ویدو ځمریانو څنی ویریږی او تل په دی فکر کښی دی چه دا توریالی قوم بیا ویښ نشی. په علمی او مذهبی مناظرو کښی هم د اسلام هم دا رعب مشاهده کیږی. په حدیث شریف کښی راغلی دی چه «زما رعب د یوی میاشتی له مسافی څنی د دښمنانو په زړونو کښی اچول شوی دی.» بیشکه د هم هغه اثر دی چه مسلمه امت ته هم په برخه شوی دی. **فلله الحمد علی ذلک وله المنة**

## وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللّٰهُ وَعْدَهٗٓ اِذْ تَحُسُّوْنَهُمْ بِاِذْنِهٖ

او خامخا په تحقیق رښتیا کړه تاسی ته الله وعده خپله په هغه وخت کښی کله چه وژل تاسی کافران په اذن (حکم) د الله سره،

**تفسیر:** نبی کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم لا پخوا فرمائلی ؤ چه «که تاسی له صبر او ثبات څخه کار واخلئ!، نو الله تعالیٰ به تاسی ته بری درکړی.» لکه چه الله تعالیٰ خپله وعده د «احد» د جنگ په ابتداء کښې رښتیا ښکاره کړه او مسلمانانو د الله تعالیٰ په امر کافران تار په تار، او ډگر ئی په وینو سور کړ. (٧) یا (٩) هغه سری چه د هغوی په لاسونو کښې د مشرکانو بیرغ ؤ پرله پسې ئی ووژل او ځای په ځای ئی کوته کړل او د گردو (تولو) ککری هلته په وینو سری او ککړی شوی. په اخر کښې کفار د ډیری ویری له لاسه بدحواسه شول او گرد (تول) وتښتیدل. مسلمانانو د فتح او بری ښیره صافه ولیدله. او په مخ کښې ورته د غنیمت د اموالو انبارونه پراته وو. نو دوی په هغو مشغول شول چه د غشو ویشتونکو له غلطی څخه (خالد بن ولید) گته واخیسته، او د جنگ نقشه یو ناڅاپه بدله شوه. لکه چه مونږ دغه پخوا له دی نه ولیکل.

## حَتّٰۤى اِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَازَعْتُمْ فِى الْاَمْرِ وَعَصَیْتُمْ

تر هغه وخته پوری چه بی زړه شوئ تاسی او (پخپلو منځونو کښې) سره مخالف شوئ په امر (د نبی) کښې او نافرمانی وکړه تاسی.

**تفسیر:** یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم چه کوم حکم غشو ویشتونکو ته ورکړی ؤ له هغه ځنی مخالف کار وکړ شو او دوی پخپلو منځونو کښې په جګړو سره اخته شول ځینو وویل چه «مونږ لره ښائی چه هم دلته تینګ ودریږو او هیڅ تری ونه خوځیږو.» ډیرو کسانو وویل چه «اوس هیڅ ضرورت نشته چه دلته وزګار کینو ځئ! چه ځو غنیمت حاصل کړو!.» آخر زیاترو غشو ویشتونکو خپل سنګرونه (مورچی) پریښودل او مشرکانو له هم هغه ځایه ناڅاپه پری حمله یرغل راوړ له بلی خوا د رسول الله مبارک د قتل خبر مشهور شو دغو شیانو د دوی پر زړونو کښې کمزوری پیدا کړه چه د هغه نتیجه د بی زړه توب (فشل، جبن) په صورت ظاهره شوه، ګواکی د بی زړه توب سبب جګړه او د جګړی سبب عصیان ؤ.

## مِّنْۢ بَعْدِ مَاۤ اَرٰىكُمْ مَّا تُحِبُّوْنَ ؕ مِنْكُمْ مَّنْ یُّرِیْدُ الدُّنْیَا وَمِنْكُمْ مَّنْ یُّرِیْدُ الْاٰخِرَةَ ۚ

له هغه وروسته چه دروښود تاسی ته (الله) هغه شی چه ستاسی خوښ ؤ (له نصرت او غنیمت څخه) ځینی له تاسی هغه دی چه خوښوی دنیا (دا ژوندون لږ خسیس) او ځینی ستاسی هغه دی چه خوښوی آخرت،

**تفسير:** يعني ځينی خلق د دنيوی متاع (مالی ولجی) په خوښی کښې وښوئيدل، چه د هغه ربرونه (تکليفونه) ئی ګرد (تول) سره وګالل(تير کړل). ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی «چه د دی آيت له نزول څخه پخوا ما دا خبره نه وه محسوسه کړی، چه ګواکی زمونږ په منځ کښې کوم سړی د دنيا طالب هم شته؟».

---

ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِيَبْتَلِيَكُمْ ۚ

---

بيا (الله) وګرځولئ تاسی له کافرانو څخه (په تيښته سره) له پاره د دی چه وازموئی تاسی،

---

**تفسير:** يعني پخوا خو کفار ستاسی له مخی تښتيدل. او اوس خو تاسی مسلمانان د هغوی په مخ کښې تښتئ! ستاسی د غلطئ او قصور له امله (وجی) دغه معامله سره چپه شوه، او په دی کښې ستاسی آزموينه ده. څو مخلص او غير مخلص مسلمانان صاف پکښې ښکاره شی.

---

وَلَقَدْ عَفَا عَنْكُمْ ۗ

---

او هرومرو (خامخا) په تحقيق عفوه وکړه (الله تاسی ته، (يا) او خامخا په تحقيق عفوه وکړه (الله) له تاسی (چه تول ئی پر دوی قتل نه کړئ)

---

**تفسير:** يعني کومه غلطی چه شوی وه هغه پاک الله تاسی ته بيخی معافه کړه. اوس دغه خبره هيچا ته جائزه نه ده چه د دی حرکت له سببه پر بل چا باندی طعن او تشنيع ووائی.

---

وَاللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٥٢﴾

---

او الله څښتن (مالک) د لوی فضل (رحمت، مهربانی، احسان) دی پر مؤمنانو باندی.

---

**تفسير:** يعني الله تعالیٰ د داسی مهربانی او فضل څښتن (مالک) دی چه د مؤمنانو تقصيرات معافوی او په عتاب کښې هم د لطف او شفقت خوا تل د ده ملحوظه وی.

إِذْ تُصْعِدُونَ وَلَا تَلْوُنَ عَلَىٰٓ أَحَدٍ وَّالرَّسُولُ يَدْعُوكُمْ فِيٓ أُخْرَىٰكُمْ

(ياد كړئ) هغه وخت چه تلئ مندی وهلی تاسی (بيرته مو شا گرځوله) او نه مو كتل هيچا ته حال دا چه رسول (د الله محمد) بللئ تاسی وروسته ستاسی.

**تفسير:** يعنى تاسى تښتيدئ او پر غرونو او ميرو باندى ختلئ او مندى مو وهلى او له وارخطائى مو شاته نه كتل په دى وخت كښى رسول الله مبارک ځاى په ځاى ثابت او مستقيم ولاړ ؤ. او تاسى ئى له دى قبيح حركت څخه منع كولئ او تاسى ئى خپل لور ته بللئ. مگر تاسى د ډير تشويش او اضطراب له امله (وجى) د هغه آواز كله اوريده؟ تر څو چه كعب بن مالك رضى الله تعالىٰ عنه چيغى وكړى او خلقو دا چيغى واوريدى او بيرته ستانه (واپس) شول. او د خپل مقدس رسول صلى الله عليه وسلم په شاؤ خوا كښى سره راټول شول.

فَأَثَٰبَكُمْ غَمًّۢا بِغَمٍّ لِّكَيْلَا تَحْزَنُوا۟ عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ وَلَا مَآ أَصَٰبَكُمْ ۗ

نو سزا ئى دركړه تاسى ته يو غم په سبب د بل غم له پاره د دى چه خپه نه شئ تاسى په هغه شى چه پاتى شو له تاسى (له غنيمت څخه) او نه په هغه شى چه ورسيد تاسى ته (د جنگ له تكليف نه)،

**تفسير:** يعنى تاسى د خپل رسول الله صلى الله عليه وسلم زړه تنگ كړ چه د هغه په بدل پر تاسى باندى هم تنگى راغله. هو! د غم په عوض غم دررورسيد تر څو چه وروسته له دى نه مو دا په ياد وى چه په هر حالت كښى ښائى د رسول الله صلى الله عليه وسلم پر حكم باندى ټگ وكړئ!، اعم له دى چه كوم منفعت لكه غنيمت او نور څه ستاسى له لاسه ووځى. يا كومه بلا ستاسى په مخه درشى.

**تنبيه :** اكثرو مفسرينو د ﴿ فَأَثَٰبَكُمْ غَمًّۢا بِغَمٍّ ﴾ معنى داسى كړى ده چه الله تعالىٰ تاسى ته د يوه غم د پاسه بل غم دركړ. يعنى يو غم د ړومبنى فتحى او برى له لاسه وتلو له امله (وجى) او بل غم ستاسى د سريو د وژل كيدلو او زخمى كيدلو او د نبى كريم صلى الله عليه وسلم د شهادت د خبر خوريدلو په سبب ؤ. ځينو داسى مطلب اخيستى دى چه د فتحى او غنيمت له لاسه وتلو، او د مالى او بدنى نقصان گاللو (برداشت كولو) كوم غم چه ؤ، د هغه د پاسه يو بل لوى غم تاسى ته دررورسيد چه د هغه له امله (وجى) هغه پخوانى غمونه گرد (تول) له تاسى څخه هير شول، يعنى د نبى كريم صلى الله عليه وسلم د شهادت آوازه چه د دى غم له شدته وړاندنى

وروستنی گردی (تولی) خبری له تاسی هیری شوی. تر دی چه د رسول کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم غږ مو هم وانه ورید لکه چه پر یوه لوری د بیخی ملتفت کیدلو په وخت کښی له بل لوری څخنی طبعاً غفلت او ذهول پیښیږی.

وَاللّٰهُ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ﴿١٥٣﴾

او الله ښه خبردار دی په هغه شی چه تاسی ئی کوئ (لکه نور شیان).

**تفسیر:** یعنی ستاسی له احوالو او نیتونو څخنی ښه خبردار دی او سم له هغو سره به درسره معامله کوی.

ثُمَّ أَنزَلَ عَلَيۡكُم مِّنۢ بَعۡدِ ٱلۡغَمِّ أَمَنَةٗ نُّعَاسٗا يَغۡشَىٰ طَآئِفَةٗ مِّنكُمۡۖ

بیا ئی نازل کړ (راولیږه) پر تاسی باندی وروسته له دی غمه امن (بیغمی) پر کالی د خوب چه لاندی ئی کړه یوه طائفه له تاسی (چه مومنان وو)

**تفسیر :** یعنی په دی غزا کښی د هر چا په برخه کښی چه شهادت ؤ شهیدان شول. او د هر چا په برخه کښی چه ماتی وه ماتی ئی وکره. او هغه مخلص مجاهدین چه د «جهاد» په میدان کښی باقی پاتی شول حق تعالیٰ په هغوی باندی یو راز (قسم) داسی د خوب پرکالی (پرامښکی) راوستله چه په عین ولاړه کښی پر کالی یووړل. د حضرت طلحه رضی الله تعالیٰ عنه له لاسه څو ځلی چاړه پر ځمکه ولویده. دا یو حسی اثر له هغه باطنی اطمینان او سکون څخه ؤ چه په هسی لویه هنگامه او ډیر سخت شورماشور کښی د مؤمنانو پر زړونو باندی محض د الله تعالیٰ په فضل او مرحمت سره وارد شو. او وروسته له هغه د دوی له زړونو څخه د دښمن خوف او ویره بیخی ورکه شوه. دغه کیفیت په عین هم هغه وخت کښی ورپیښ شو چه د مجاهدینو په لښکر کښی څه نظم او نسق قائم نه ؤ او ډیر شهیدان په خاورو او وینو رنگ پراته وو. مجاهدین د ډیرو زخمونو له امله (وجی) تکر تکر وو. د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د قتل آوازه د دوی گرد (تول) فکر، هوښ، حواس وړی ؤ. گواکی دغه خوب د ویښیدلو له پاره ؤ. پر مؤمنانو باندی پرکالی راغله، او د دوی هغه گرد (تول) ستومانی او سترتیا ئی له منځه ورکه کړه، او تنبیه ئی وفرمایله چه د ویری، تشویش او اضطراب وخت تیر شوی دی. اوس ډاډه او مطمئن شئ! او خپل فرض اداء کرئ! نو سم د لاسه لوی اصحاب رضی الله تعالیٰ عنه د رسول الله مبارک

په خوا کښې راتول شول، او د غزا دوهم محاذ ئې جوړ کړ. لږ څه وروسته فضا صافه شوه، دښمن د دوی په مخ کښې بیا په تښتیدلو مجبور شو.

**تنبیه :** ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی چه عین د غزا په وخت کښې د خوب پرکالی، پرامښکی (نعاس) راتلل د الله تعالیٰ له لوری د فتحی او د غلبې د راتګ علامه وه. د حضرت علی کرم الله وجهه فوځ ته هم په (صفین) کښې هم داسې یوه واقعه ورپیښه شوی وه.

## وَطَآئِفَةٌ قَدْ أَهَمَّتْهُمْ أَنفُسُهُمْ

او بله طائفه وه (له تاسې چه منافقان ؤ) په تحقیق په فکر کښې غورځولی ؤ دوی نفسونو د دوی.

**تفسیر:** دا ویریدونکی او خائفان منافقان دی چه له دوی سره نه د اسلام غم او نه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم څه درد ؤ. له دوی سره یوازې د دوی د ځان فکر و، او په هغه کښې بیخی دوب تللی وو، او په خپلو زړونو کښې به ئې دا فکرونه کول نه چه د ابوسفیان لښکر بیا کومه حمله او یرغل راوړی، او مونږ ته بیا کوم جنګ او جنجال راپیښ کړی. که داسې وشی نو زمونږ حال به هلته څه وی؟ نو په هسی ویره، اندیښنو او چرتونو کښې پر دوی باندی نه پرکالی او نه خوب راته.

## يَظُنُّونَ بِاللَّهِ غَيْرَ الْحَقِّ ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ

چه ګمانونه به کول دوی په الله باندی (ګمان) ناحقه (لکه) ګمان د جاهلیت،

**تفسیر:** یعنی داسې ګمان کوی چه د الله تعالیٰ وعدی چیری ولاړی؟ معلومیږی چه اوس د اسلام قصه پای (اخر) ته ورسیده. اوس رسول او مسلمانان خپلو کورونو ته بیا بیرته تلونکی نه دی. ګرد (تول) هم دلته شهیدان کیږی. لکه چه په (٢٦) جزء د «الفتح» په ١٢ آیت ٢ رکوع کښې فرمائی ﴿بَلْ ظَنَنتُمْ أَن لَّن يَنقَلِبَ الرَّسُولُ وَالْمُؤْمِنُونَ إِلَىٰ أَهْلِيهِمْ أَبَدًا﴾

## يَقُولُونَ هَل لَّنَا مِنَ الْأَمْرِ مِن شَيْءٍ

وائی دوی چه آیا شته مونږ لره له امره (د نصرت له کاره) څه برخه؟ (هیڅ نشته)،

**تفسیر:** یعنی آیا زمونږ کار څه لا باقي دی یا بیخي خلاص شوی دی یا دا چه مونږ ته چه د محمد صلی الله علیه وسلم د مرستیانو (مددګارانو) څخه یو څه فتح او ظفر په لاس راغلی؟ یا دا معنی څه چه د الله تعالیٰ اراده وه هغه ئی وکړه زمونږ یا د بل په هغه کښې څه واک (قبضه) دی؟ دا د الفاظو ظاهري معنی وه، لیکن هغه چه د دوی د زړونو نیت ؤ، وروسته له دی نه راځي.

قُلْ إِنَّ الْأَمْرَ كُلَّهُ لِلَّهِ

ووایه (ای محمده! دوی ته چه) بیشکه امر (د نصرت یا د هزیمت کار) تول خاص الله لره دی، (او هر شی د الله په حکم کیږی.)

**تفسیر:** یعنی دا د منافقانو قول ﴿هَلْ لَنَا مِنَ الْأَمْرِ مِنْ شَيْءٍ﴾ کلمة حق ارید بها الباطل دی. بیشکه دا صحیح ده چه ستاسی په لاسونو کښې هیڅ شی نشته او ګرد (تول) کارونه د الله تعالیٰ په قدرت او اختیار کښې دی د هر چا په نسبت چه اراده وفرمائی د هغه حال سنبالوی، یا ئی له جنجاله ډکوی، غالب یا ئی مغلوبوی. آفت وررسوی یا راحت بری ئی په برخه کوی یا ناکامی هم دا یوه واقعه د یوه قوم له پاره رحمت او د بل قوم له پاره زحمت ګرځوی. ګرد (تول) د هغه په قبضه او واک (اختیار) کښې دی. مګر له دی قول څخنی کومه معنی چه تاسی پخپلو زړونو کښې آخلئ، هغه غلطه ده. الله تعالیٰ ته ستاسی د زړونو پټی خبری هم معلومی دی، چه د هغه بیان وروسته له دی نه راځي.

يُخْفُونَ فِي أَنْفُسِهِمْ مَا لَا يُبْدُونَ لَكَ ۖ يَقُولُونَ لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ مَا قُتِلْنَا هَاهُنَا ۗ

پټوی دا (منافقان) په نفسونو (زړونو) خپلو کښې هغه (خبری) چه نه ئی در ښکاروی تاته (ای محمده!) وائی دغه (منافقان یو تر بله) «که چیری وی مونږ لره له امره (د نصرت له کاره) یو شی. نو نه به وو وژلی شوی مونږ دلته (په دی غزا د «احد» کښې).

**تفسیر :** د دوی د زړه پټه خبره دا وه چه ﴿هَلْ لَنَا مِنَ الْأَمْرِ مِنْ شَيْءٍ﴾ به ئی ویل او په زړه کښې به ئی د هغه معنی داسی کوله. ﴿مَا قُتِلْنَا هَاهُنَا﴾ او له مخلصو مسلمانانو څخنی به جلا (جدا) کیدل او پخپلو منځونو کښې به ئی سره ویل «خانه! دوی په اول کښې زمونږ خبرو ته غوږ کینښود. او د څو سر تیرو او ناتجربه کارو ځلمیانو په وینا سره له مدینې څخه د باندی

د غزا له پاره ووتل، آخر ئې پخپلو مخونو باندې سختې ټپېرې وخوړلې، که لږ څه واک (قبضه) او اختیار زمونږ په لاس کښې وی، او زمونږ پر مشورو باندې ئې عمل کړی وی نو دومره نقصانونه به ئې ولې ګالل(تیرول)، او زمونږ له ګوند «حزب» څخنې به ولې دومره سړی وژل کیدل؟ (زیاتره منافقین نسباً د مدینې منورې له انصارو سره شامل وو نو ځکه ئې په ﴿ مَّا قُتِلْنَا هَٰهُنَا ﴾ کښې د هغوی وژل د خپل ځان وژل وبلل.) یا دا مطلب که د رسول الله مبارک له وینا سره سم فتح او ظفر او غلبه د مسلمانانو له پاره وی. نو دا د قتل او جرحې مصیبت به ولې پر مونږ باندې راته.

**تنبیه :** په ښکاره دول (طریقه) سره دا خبرې په مدینې کښې منافقانو کړې وې ځکه چه عبدالله بن ابی د «احد» د جنګ له شروع څخنې پخوا له خپلې ډلې سره د غزا له میدانه د باندې ووتل، په دې صورت کښې د «هٰهنا» اشاره د قرب په سبب د «احد» په لورې به وی. لیکن د ځینو روایتونو له مخې د یوه منافق له خولې څخنې دا خبره د جنګ په میدان کښې اوریدلې شوې وه چه نوم ئې «معتب بن قشیر» و نو ښائې ځینې منافقان له عبدالله بن ابی سره د ځینو مصالحو له امله (وجې) بیرته ستانه (واپس) شوی نه وی. والله اعلم.

---

قُلْ لَّوْ كُنْتُمْ فِيْ بُيُوْتِكُمْ لَبَرَزَ الَّذِيْنَ كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقَتْلُ إِلٰى مَضَاجِعِهِمْ ۚ

---

نو ووایه (ای محمده! دوی ته) که وی تاسی په کورونو خپلو کښې (نو) خامخا به راوتلی وو هغه کسان چه مقرر شوی ؤ په دوی باندې وژل طرف د ځایو د پریوتلو خپلو ته،

---

**تفسیر :** یعنی له دې طعن او تشنیع یا حسرت او افسوس څخه هیڅ په لاس نه درځی. الله تعالیٰ د هر چا د اجل او د موت ځای او سبب او وخت لیکلی دی، هیڅکله هغه نه بدلیږی. که تاسی پخپلو کورونو کښې هم پټیدی او فرض ئې کړئ که ستاسی رأیه هم آوریده کیدی نو بیا هم هغه کسان چه د هغوی وژل کیدل د «احد» په نژدې ځایونو کښې مقدر وو خامخا به په یو نه یو سبب سره هم هغه خوا ته تلل او هم هغلته به وژل کیدل. دا د الله تعالیٰ انعام دی په کوم ځای کښې چه د هغوی وژل مقدر وو هم هغلته ووژل شول. مګر څرنګه چه د الله تعالیٰ په لاره کښې په ډیره زړورتیا او خوښۍ سره شهیدان شول بیا پر دوی باندې د افسوس او ارمان کول د څه دپاره دی. او د الله تعالیٰ د لارې میړنی (بهادر) پر خپلو ځانونو مه قیاسوئ!.

کړه غزا هیڅ له دښمنه مه ویرېږه!

د ګور شپه په کور کښې هیڅوک نه کوینه!

چه دښمن ته مخامخ شي څنګ تري نه کړي
ملائک له عرشه پرې وائي آفرينه!

وَلِيَبْتَلِيَ اللَّهُ مَا فِي صُدُورِكُمْ وَلِيُمَحِّصَ مَا فِي قُلُوبِكُمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿١٥٤﴾

او (دغه معامله الله تعالىٰ په احد کښې وکړه) دپاره د دې چه وازموئي الله هغه شي چه په سينو (زړونو) ستاسې کښې دی، او دپاره د دې چه ښکاره کړي (الله) هغه شي چه په زړونو ستاسې کښې دی، او الله ښه عالم دی په هغو خبرو چه په سينو کښې پرتې دي (لکه نور شيان)

تفسير: يعنی الله تعالىٰ ته د زړونو پټې خبرې هم معلومې دي له الله جل جلاله څخه د هيڅا هيڅ يو حالت پټ نه دی، مقصود دا ؤ چه ستاسې له ګردو (تولو) څخه يو امتحان واخيست شي تر څو هر هغه شيان چه ستاسې په زړونو کښې دي هغه د باندې ووځي د امتحان په بټی کښې سره او ناسره پخپله سره بيل کړي مخلصين د خپلو بريو صله او انعام ومومي او د هغوی زړونه د سبا له پاره له وسوسو او کمزوريو څخنې پاک او صاف شي، او د منافقانو د زړونو نفاق ښکاره شي او خلق په ښکاره دول (طريقه) د دوی له باطني پليتي څخه خبر کړي.

إِنَّ الَّذِينَ تَوَلَّوْا مِنكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ إِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطَانُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوا ۖ وَلَقَدْ عَفَا اللَّهُ عَنْهُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿١٥٥﴾

بيشکه هغه کسان (له تاسې) چه وګرځيدل دوی (له جنګ) په هغې ورځې کښې چه مخامخ شول سره دواړه فوځونه بيشکه هم دا خبره ده چه ښويولې وو دوی شيطان په سبب (د شامت) د ځينو هغو ګناهونو چه کړي وو دوی، او خامخا په تحقيق عفوه کړې ده الله له دوی نه بيشکه الله ښه مغفرت کوونکی (د خطياتو) ښه تحمل کوونکی دی (د عقوبت په تأخير د رجوع له پاره)

**تفسیر:** له مخلصینو ځخه هم ځنی وختونه څه وړه یا لویه گناه صادرېږی. همغسی چه له یوه طاعت ځخه د بل طاعت توفیق زیاتېږی، هم داسی د یوی گناه له نحوسته شیطان ته موقع په لاس ورځی او سړی د نورو غلطیو او گناهونو په لوری ښویوی او ورته چمتو (تیار) کوی ئی. د «احد» په غزا کښی هم هغه مخلص مسلمانان چه خپل سنگرونه (مورچی) ئی پرېښی ؤ دا کار ئی د کومی پخوانی گناه له شامته ؤ چه شیطان دوی تیرایستل او وئی ښویول یوه گناه خو دا وه، چه دیرو غشو ویشتونکو د رسول کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم د حکم اطاعت ونه کړ. مگر د الله تعالیٰ فضل وگوره چه د هغی په مقابل کښی ئی دوی ته د کومی سختی ماتی سزا ورنه کړه. برسیره پر هغه د دی حضراتو گرد (تول) گناهونه ئی معاف کړل چه هیڅ یو تن له دوی ځنی گناهگار پاتی نه شو. او هیڅوک حق نه لری چه په هغوی باندی طعن یا څه ملامتی ووائی.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ

---

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (ای مؤمنانو!) مه کیږئ تاسی لکه هغه کسان چه کافران شوی دی.

---

**تفسیر :** یعنی تاسی لکه دا کافر منافقان هسی لغو او چتی (فضول) خیالاتو ته پخپلو زړونو کښی ځای مه ورکوئ چه که مونږ پخپلو کورونو کښی ناست وی، نو نه به وژل کیدلو.

---

وَقَالُواْ لِإِخْوَٰنِهِمْ

---

او ویل به دوی په (حق د) ورونو خپلو کښی.

---

**تفسیر :** ځرنگه چه منافقان په ظاهره کښی مسلمانان شوی وو. نو ځکه ئی مسلمانانو ته ورونه ویل. یا دا چه په نسبی دول (طریقه) دوی د مدینی منوری د انصارو له ورونو ځنی وو، او ځنگه ئی چه دا خبری د خیر خواهی او همدردی په دود کولی، نو ځکه د «اخوان» لفظ سره ئی تعبیر وکړ شو.

---

إِذَا ضَرَبُواْ فِي ٱلْأَرْضِ أَوْ كَانُواْ غُزًّى لَّوْ كَانُواْ عِندَنَا مَا مَاتُواْ وَمَا قُتِلُواْ لِيَجْعَلَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ حَسْرَةً فِي قُلُوبِهِمْ ۗ

---

کله به چه سفر ته وتل دوی په ځمکه (په ملک) کښې یا به وو دوی غزا کوونکي که چیرې وی دوی په نزد زمونږ کښې نو نه به وو مړه شوی دوی او نه به قتل کړی شوی وو دوی، دپاره د دې چه وګرځوی الله دا (ګمان) حسرت (افسوس، ارمان) په زړونو د دوی کښې.

**تفسیر :** یعنې خامخا له دې سببه مړه شول چه د باندې ووتل که له مونږ سره پخپلو کورونو کښې اوسیدی نو ولې به مړه کیدل. یا به ولې وژل کیدل؟ دا وینا د دې له امله (وجې) ده چه د آوریدونکو مسلمانانو په زړونو کښې حسرت او افسوس پیدا شي چه په رښتیا سره مونږ بې له فکره او اتکله د باندې ووتلو او د جنګ په اور کښې مو ځانونه وغورځول. او دا نتیجه په لاس تری راغله که په کورونو کښې اوسیدی نو د دې مصیبت مخ به مو نه وی لیدلی. مګر مسلمانان داسې ناپوهان نه وو چه په هسې فریبونو به غولیدل بلکه له هسې خبرو څخه بالعکس د منافقانو پت (غیرت) او اعتبار لاړ. ځینو مفسرینو چه په ﴿لِيَجْعَلَ اللَّهُ ذَٰلِكَ حَسْرَةً فِي قُلُوبِهِمْ﴾ کښې لام د عاقبت له پاره اخیستی نو داسې ئې معنی کوی. «د منافقانو پر ژبه او په زړه باندې ځکه داسې خبرې جاری وی چه الله تعالیٰ تل دوی د افسوس او حسرت په اور کښې وسوځوی او پکښې پرې ئې یږدی.» او د دوی بل حسرت به دا وی چه مسلمانان ولې زمونږ په شان نه شول او زمونږ په خبرو باندې ولې چا غوږ کینښود. ګواکې په دې تقدیر سره د ﴿لِيَجْعَلَ﴾ تعلق د ﴿لَا تَكُونُوا﴾ الآیة ـ سره هم کیدی شي.

وَاللَّهُ يُحْيِي وَيُمِيتُ ۗ

او الله ژوندی کول (ژوندی پریښودل) او مړه کول کوی (نه جنګ نه سفر او نه نور)،

**تفسیر:** یعنې ژوندی کول او مړه کول د الله تعالیٰ کار دی خورا (ډیر) ډیر کسان په خپل ګرد (ټول) عمر کښې سفرونه کوی او په ډیر جنګونو کښې شاملیږی مګر مرګ دوی ته د هغوی په کورونو او د دوی په بسترو کښې وررسیږی مګر بیا هم دوی وائي چه «سرې په خپل کور کښې له هر ډول (طریقه) ربړو (مصیبتونو) او اندیښنو څخنې ساتلی وی.» ډیر کسان داسې شته دی چه عادتاً په خپلو کورونو کښې اوسیږی مګر په پای (آخر) کښې داسې یوه وسیله وربرابریږی چه دوی له خپله کوره وځی او هم هغلته د باندې مړه یا ووژل شي د بندګانو په هسې پلمو (تدبیرونو) او بهانو مرګ بیرته کیدونکی او بچ کیدونکی نه دی. حضرت خالد بن ولید رضی الله تعالیٰ عنه د خپل وفات په وخت کښې وویل. «زما په بدن کښې هسې یوه لویشت

ځای نشته چه د تورو، نیزو او غشو له زخمه خالي وی، مګر زه نن لګه یو اوبښ غوندی په خپل بستر او کور کښی مرم.» **فلا نامت اعین الجبناء** ـ الله دی وکړی چه د ویریدونکی سترګی خلاصی شی!

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيْرٌ ﴿١٥٦﴾

او الله پر هغو (تولو) شیانو چه تاسي ئی کوئ ښه لیدونکی دی (عالم په پټو او ښکاره ؤ).

**تفسیر:** یعنی الله جل جلاله ته معلوم دی چه منافقان او کافران پر کومه لاره باندی درومی؟ او مسلمانان تر کوم ځای پوری د دوی له تشبه او پیروی ځنی ځانونه ساتی؟ نو هر یوه ته الله تعالیٰ د ده له حاله سره مناسب بدل ورکوی.

وَلَئِنْ قُتِلْتُمْ فِي سَبِيْلِ اللّٰهِ اَوْ مُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَحْمَةٌ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴿١٥٧﴾ وَلَئِنْ مُّتُّمْ اَوْ قُتِلْتُمْ لَاِلَى اللّٰهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿١٥٨﴾

او قسم دی خامخا که ووژلی شوئ تاسی په لاره د الله کښی یا مړه شوئ تاسی (په لاره د الله کښی چه طاعت دی) نو خامخا مغفرت له جانبه د الله او رحمت (مهربانی د الله) خیر (ډیر ښه) دی له هغو (مالونو) چه دوی ئی جمع کوی. او قسم دی که مړه شوئ تاسی یا ووژلی شوئ تاسی نو خامخا به الله ته راجمع کړی شئ تاسی (تول).

**تفسیر:** یعنی فرض ئی کړئ چه که تاسی سفر یا «جهاد» ته ونه وځئ! او فی الحال په یو چل ځان له مرګه وژغورئ (وساتی)! مګر دا خبره ضروری ده چه کله نه کله به تاسی مرئ! یا به وژل کیږئ! بیا به هر حال سره تاسی ګرد (تول) د الله تعالیٰ په مخ کښی حاضریدونکی او ګرد (تول) سره جمع کیدونکی یئ! هلته به تاسی وپوهیږئ، هغه بختور کسان چه د الله تعالیٰ په لاره او په ښو کارونو کښی مری یا وژل کیږی دوی ته د الله تعالیٰ له مغفرت او مهربانی څخه څومره ډیره برخه ور په برخه کیږی؟ چه د هغی په مقابل کښی دنیوی ګټی او ګرد (تول) جمع کړی دولت او ثروت هیڅ دی. حاصل دا چه که د منافقینو دغه وینا هم ومنل شی چه که دوی له

کوره نه وتل نو نه به وژل کیدل نو دلته هم بیخی د دوی خساره ده ژوند جاراوه شي بلکه دغه حقیقي مرګ نه دی او تل ژوندون دی.

هر ژوندی مړ کیږي، هغه مړ ژوندی دی　　چه د دین خدمت کړي، په غزا کښي مړینه

فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ لِنتَ لَهُمْ ۖ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ ۖ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ ۖ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ ﴿١٥٩﴾

نو (یوازی) په سبب د رحمت د الله (چه پر تا شوی دی ای محمده! تل) نرمي کوی ته دوی ته او که وی ته (ای محمده!) بدخوی سخت زړه نو هرومرو (خامخا) به تار په تار شوی وو (اصحاب) له چاپیره ستا څخه (ای محمده!) نو عفوه وکړه له دوی نه (د دوی له تجاوز نه پر تا) او مغفرت وغواړه (له الله) دوی ته (د تقصیراتو د دوی) او مشوره وکړه له دوی سره (ای محمده! په کار) امر کښي نو کله دی چه تینګه اراده وکړه (ای محمده! د یوه کار کولو ته) نو توکل (اعتماد) وکړه پر الله باندی، بیشکه الله خوښوی توکل کوونکي (چه بریالي کوی ئې او د رشد او صلاح لاره وربښئي).

**تفسیر:** الله تعالیٰ مسلمانانو ته د هغوی په تقصیراتو باندی تنبیه وفرمایله او د عمومي عفوی د اعلان له اورولو څخه وروسته ئې دوی ته نصیحت وکړ چه بیا د دی دلي په خبرو باندی چه د لستوني ماران دی مه تیروځئ! په دی آیت کښي ئې د هغوی د تقصیر د عفوی تکمیل وکړ څرنګه چه د «احد» په غزا کښي له مسلمانانو څني سخته غلطي او زیات تقصیر شوی ؤ ښائی چه د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم زړه به خپه شوی وی او دا به ئې په خپل زړه کښي ګرځولي وی چه وروسته له دی نه له دوی څني به مشوره نه آخلم او بی له جرګي به کار کوم نو ځکه الله تعالیٰ په ډیره عجیبه او غریبه توګه (اسلوب) د جرګي سپارښت وکړ اول ئې له خپل لوری د معافي اعلان وفرمایه، ځکه چه الله تعالیٰ ته معلوم ؤ چه د پاک رسول صلی الله علیه وسلم دا غم او اندیښنه یوازی د الله تعالیٰ د رضا د حصول له پاره وه بیا ئې وفرمایل ﴿فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ لِنتَ لَهُمْ﴾ یعني د الله تعالیٰ څومره زیات رحمت پر تاسی او دوی باندی دی چه تاسی ئې دومره خوش اخلاق او خوش خوی وګرځولئ، که کوم بل څوک وی نو الله تعالیٰ خبر دی چه په دغومره یوه لویه واقعه کښي به ئې څه سخته رویه غوره کوله؟ او برسیره په دی دا د الله تعالیٰ

ځومره مهربانی ده چه تا غوندی شفیق او نرم زړه رسول ئی هغوی ته وراستولی دی، فرض ئی کړئ که تاسی الله تعالیٰ دی نه کړی سخت زړه او په مزاج کښې مو شدت وی، نو دا قوم کله ستاسی په خواؤ شا کښې تولیدلی شو. که له دوی ځنی کومه غلطی کیدی شی او تاسی له دوی سره سختی کولی نو د شرم او دهشت له امله (وجی) به ستاسی مخ ته نشوی راتلی نو له دی امله (وجی) به دوی له ډیر لوی خیر او سعادت ځخه بی برخی پاتی کیدل او د اسلامی جمعیت شیرازه به سره شلیده لیکن حق تعالیٰ تاسی نرم زړه او نرم خوی پیدا کړئ تاسی یئ چه د اصلاح په غرض د دوی له تقصیراتو ځنی تل اغماض کوئ، نو دا تقصیر هم تر هغه ځایه پوری چه ستاسی له حقوقو سره تعلق لری ورمعاف کړئ! اګر که الله تعالیٰ خپل حق معاف کری دی، خو بیا هم د دوی د زیاتی خوښی او زړه خوښولو له پاره تاسی هم له مونږ ځخه د دوی مغفرت وغواړئ! تر ځو دا زړه ماتی ستاسی خوښی او انبساط محسوس کری، او بیخی مطمئن او خوشال شی. او یوازی هم دا معافول نه بلکه وروسته له دی نه هم لکه پخوا په معاملاتو کښې له دوی سره مشوری کوه! وروسته له مشوری ځخه کله چه یوه خبره غوته شوه او پخه اراده ئی وکړی شوه نو بیا پر الله تعالیٰ باندی توکل وکړئ او هغه بی له تامل او ځنډ (توقف) ځخه په ځای راوړئ! ځکه چه الله تعالیٰ متوکلان خوښوی او د دوی کارونه جوړوی.

**تنبیه :** له حضرت علی کرم الله وجهه ځخه روایت دی چه رسول کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم ځخه سوال وکړ شو چه «عزم» څه شی دی؟ وئی فرمایل «مشاورة اهل الرأی ثم اتباعهم» (ابن کثیر). او په مجمع الزوائد کښې له حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه ځنی یو حدیث روایت شوی دی. «یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ! که مونږ کومه خبره په کتاب او سنت کښې ونه مومو، نو په هغی کښې کومه طریقه غوره کړو؟» رسول کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم وفرمایل «له عابدینو فقهاؤ سره مشوره وکړئ! ولا تمضوا فیه رأی خاصة! ـ د یوه یا دوه تنو خبره مه منئ!« بلکه د ګردی (تولی) مرکی او جرګی مشوره ومنئ!»

---

إِن يَنصُرْكُمُ اللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمْ ۖ وَإِن يَخْذُلْكُمْ فَمَن ذَا الَّذِي يَنصُرُكُم مِّن بَعْدِهِ ۗ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ﴿١٦٠﴾

---

که مرسته (مدد) وکړی له تاسی سره الله (لکه چه په بدر کښې ئی وکړه) نو نشته (هیڅ) غالب پر تاسی باندی او که مرسته (مدد) ونه فرمائی له تاسی سره (الله لکه چه په احد کښې ئی پریښودئ) نو څوک دی هغه چه مرسته (مدد) به وکړی له تاسی سره وروسته له هغه (خذلان د) الله ؟ (هیڅوک نشته!) او خاص پر الله دی پس توکل (اعتماد) وکړی مؤمنان.

**تفسیر:** پخوا ئی رسول صلی الله علیه وسلم ته فرمایلی ؤ چه «په الله تعالیٰ توکل وکړئ!» دلته دا راښئی چه د توکل او اعتماد وړ (مستحق) او لائق هم هغه لوی ذات دی چه له ګردو (تولو) څخنی قوی او غالب دی. ګردو (تولو) مسلمانانو ته ښائی چه د ده پر مرستی (مدد) باندی توکل وکړی. پاک الله وروسته له دی نه له خپل لوری د مسلمانانو د تقصیراتو معافول او پر خپل رسول صلی الله علیه وسلم باندی ئی د هغو د معافولو نصیحت هغوی ته فرمائی، چه د هیچا په خبرو باندی مه خطا وځئ! او خالص پر الله تعالیٰ باندی توکل او اعتماد ولرئ! نو د هغه مرسته (مدد) به در ورسیږی او هیڅ یو طاقت به پر تاسی باندی نه غالبیږی. لکه چه د «بدر» په غزا کښی مو ولید. او که د کوم مصلحت له امله (وجی) ستاسی مرسته (مدد) ونه کړی نو بیا هیڅوک تاسی ته مرسته (مدد) نشی دررسولی، لکه چه د «احد» په غزا کښی تاسی ته تجربه وشوه.

وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَغُلَّ ۚ وَمَنْ يَغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١٦١﴾

او نه ښائی هیڅ نبی ته چه څه شی پټ کړی، او هر څوک چه څه شی پټوی نو رابه شی (دا پټوونکی) په هغه سره چه ده پټ کړی وی په ورځی د قیامت کښی، بیا به پوره ورکړی شی هر نفس ته (جزا د) هغه عمل چه کړی وی ده او پر دوی به ظلم ونه کړی شی (په تزئید د عذاب یا تنقیص د ثواب کښی)

**تفسیر:** له دی څخنی غرض یا به په پوره ډول (طریقه) سره د مسلمانانو تسکین او خاطر جمعی مقصد وی چه داسی وسوسه دوی ته پیدا نشی، چه ښائی رسول الله مبارک په ظاهر مونږ معاف کړی یو او په زړه کښی له مونږ څخنی خپه دی بیا به خپل زړه پر مونږ باندی تشوی. نو الله تعالیٰ فرمائی چه دا کار د انبیاؤ علیهم السلام نه دی چه په زړه کښی ئی یو شی او په خوله ئی بل شی وی. یا د مسلمانانو پوهول دی چه د حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم له عظمت، عصمت او امانت څخه ځان خبر کړئ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په نسبت هیڅکله چتی (فضول) او بیهوده خیالات په زړه کښی ونه ګرځوئ!. مثلاً داسی ګمان ونه کړئ! چه له غنیمت څخنی به ئی څه مال پټ ساتلی وی العیاذ بالله ښائی دا یئ ځکه فرمایلی وی چه هغو غشو ویشتونکو ته چه د غنیمت له پاره ئی خپل سنګرونه (مورچی) پریښودل، ګوندی داسی خیال په زړه کښی ګرځیدلی وی، چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به مونږ ته له غنائمو څخه برخه نه راکوی. یا به ځینی شیان له مونږ څخنی پټ ساتی. په ځینو روایتونو کښی راغلی دی چه د

«بدر» په غزا کښې يو شي (څادر يا توره) له غنيمت څخه ورک شوی ؤ چا وويل «ښائی چه
هغه به پيغمبر د خپل ځان له پاره ساتلی وی.» نو دا آيت نازل شو. په هر حال مسلمانان
پوهوی که رسول الله مبارک د خپل نرم خوئی او خوش خلقی له امله (وجی) ستاسی غلطی
معافوی نو تاسی لره د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم د شان، عظمت، لوئی، عصمت، او پاکی
زيات لحاظ په کار دی. ښائی چه مؤمنان په هيڅ قسم کمزورو او رکيکو خيالو پسی ونه
ګرځی!. له بل لوری که څه هم د رسول الله مبارک د شفقت او نرم زړه توب له يادولو څخه د
«احد» د غزا په نسبت د مسلمانانو د تقصيراتو ورمعافول مقصد دی خو په دی ضمن کښې ئی
د يوه بل تقصير يادونه هم وکړه چه د «بدر» له واقعی سره ئی تعلق درلود (لرلو) څو رسول
الله صلی الله عليه وسلم د نرم خوئی له امله (وجی) هغه هم هيره کړی.
**تنبيه :** د «غلول» اصلی معنٰی د غنيمت په مال کښې خيانت کول دی. خو کله د مطلق
خيانت په معنٰی هم راځی. خو کله محض د يوه شي په پټولو باندی هم د هغه اطلاق کيږی لکه
چه ابن مسعود ( رض) فرمائی «غلوا مصاحفکم!»

---

أَفَمَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَ اللَّهِ كَمَنۢ بَآءَ بِسَخَطٍ مِّنَ اللَّهِ وَمَأْوَىٰهُ جَهَنَّمُ ۚ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿١٦٢﴾

---

آيا نو هغه څوک چه متابعت کوی د رضامندی د الله په شان د هغه چا دی
چه بيرته راشی په قهر سره له (طرفه د) الله (د الله د غصی مورد وګرځی؟
بلکه نه دی) او ځای د ده دوزخ دی، او بد ځای د ورتلو دی (دا دوزخ).

---

**تفسير:** يعنی رسول الله مبارک چه په هر حال کښې نه يوازی د الله تعالی د مرضی تابع دی
بلکه غواړی چه نور خلق هم د الله تعالیٰ د مرضی تابع وګرځوی. آيا دی د هغو خلقو کار
کولی شی چه د الله تعالیٰ د غضب وړ (لائق) او د دوزخ مستحق وی؟ ممکن نه دی!.

---

هُمْ دَرَجَٰتٌ عِندَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ بَصِيرٌۢ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿١٦٣﴾

---

دوی (د الله تعالیٰ د رضا تابعان خاوندان د متفاوتو) درجو دی په نزد د الله
کښې او الله ښه ليدونکی (عالم) دی په هغو شيانو (هم) چه دوی (ئی) کوی.

---

**تفسير :** يعنی نبی عليه السلام او بل مخلوق له سره نه دی برابر. له طمعی او له نورو سپکو او
ذليلو کارونو سره انبياء عليهم السلام هيڅ تعلق نه لری. الله تعالیٰ ته ګرد (تول) معلوم دی چه

څه درجې لري؟ او ګرد (تول) کارونه ورځرګند دي. آيا الله تعالیٰ به هسې تيټ طبيعت لرونکو سړيو ته د نبوت لوی منصب څرنګه ورکوي؟ (العياذ بالله).

لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ

خامخا په تحقيق احسان کړی دی الله پر مؤمنانو باندې کله چه مبعوث کړ (راوليږه الله) په دوی (مؤمنانو) کښې رسول له نفس (جنس) د دوی نه

**تفسير:** يعنې د هم دوی له جنسه او له قومه ئې يو بنيادم رسول ورليږلی دی چه له هغه سره کيناستل خبرې اترې کول په ژبه ئې پوهيدل او د ده له هره قسمه انوارو او برکاتو څخه استفاده کول آسان دي. او د هغه له احوالو، اخلاقو، د ژوندانه له سوانحو امانت، ديانت، طهارت او د الله تعالیٰ څخنی له ويرې څخه ئې خبر يئ او کله چه ستاسې د هم دې قوم او قبيلې له يوه سړي څخه معجزې ښکاره شي او تاسې هغه وګورئ نو په يقين راوړلو کښې زيات سهولت راځي، فرض ئې کړئ که کوم پيرې (جن) يا پرښته (ملک) د رسول په صفت ليږل کيدی نو د ده د معجزاتو د کتلو په وخت کښې هسې خيال ممکن ؤ څرنګه چه هغه د بشر له جنسه جلا (جدا) مخلوق دی ښائي چه دغه خوارق د ده د ملکي او جني طبعيت او د نوعي صورت خاصه نتيجه وي. زمونږ عجز له هغه څخه د نبوت دليل نشي کيدی. په هر حال ښائي چه مؤمنان د الله تعالیٰ احسان ومنې چه ده داسې يو رسول صلی الله عليه وسلم ورليږلی دی چه له هغه څخه بې تکلفه د فيض استحصال کاوه شي. او له ډيرې لوړې مرتبې او عزت او په ډير لوی منصب له فائزيدلو سره د هم دوی په مجمع کښې په ډيرې نرم خوئي، خورا ملاطفت او ښه معاشرت او نهايت ملايمت ليده کيږي صلی الله عليه وعلیٰ آله الکرام وعلیٰ صحبه العظام وسلم).

يَتْلُوا عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿١٦٤﴾

چه لولي (دغه رسول) پر دوی باندې آيتونه د الله او پاکوي دوی (په توحيد سره له ګناه کينې او شرکه) او ښئي دوی ته کتاب (قرآن) او حکمت (شرعي احکام، ژورې خبرې) او بيشکه وو دوی (له دې نه) په خوا هرومرو په ګمراهي ښکاره کښې.

**تفسير:** هم دا مضمون د البقری د سورت په (١٢٩) او (١٥١) آيتونو کښې تير شوی دی.

خلاصه ئی دا ده چه څلور شیان ئی بیان کړی دی.
(۱) د آیتونو «تلاوت» (د الله تعالیٰ د آیتونو لوستل او اورول) چه د هغو په ظاهری معنی باندی د دی له امله (وجی) چه د ژبی خاوندان دی پوهیږی او عمل پری کوی.
(۲) د نفسونو «تزکیه» (د نفسانی ککړو او د شرک او معصیت له ګردو (ټولو) مراتبو څخه د دوی د زړونو پاکول او ښه صیقل کیدل) دا شی د «آیاة الله» د عمومی مضامینو له تعمیل او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له صحبت او د قلبی توجه او تصرف څخه باذن الله حاصل شوی ؤ
(۳) «تعلیم الکتاب» (هغوی ته د کتاب الله مراد ورښودل) چه په خاصو خاصو مواقعو کښی به هغه ته ضرورت پیښیده، مثلاً که اصحابو کرامو به یو لفظ د ظاهری مدلول، عمومی تبادراو محاوری له لحاظه معنی کاوه او د مشکلاتو سره به مخامخ شول په دی وخت کښی به حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم د کتاب الله اصلی مراد چه د مقام له قرائنو څخه به ښکاره کیده بیاناوه او د دوی اشتباه به ئی لری کوله لکه چه په ﴿ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَمْ يَلْبِسُوْٓا اِيْمَانَهُمْ بِظُلْمٍ ﴾ الآیة ـ او نورو ځایونو کښی دغه طریقه عملی شوی وه.
(٤) د «حکمت» تعلیم (د حکمت ژوری خبری ورښوول) او د قرآن کریم په غامضو اسرارو او د شریعت په لطائفو او دقیقو او عمیقو عللو باندی ئی (تصریحاً یا اشارتاً) مطلع کول.
رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالیٰ په اعانت او توفیق دا پاتی قوم د علم او عمل په اعلیٰ مراتبو باندی فائز کړ، چه له سلهاؤ پیریو را په دیخوا په انتهائی جهل او وحشت او ښکاره ګمراهی او ضلالت کښی ډوب وو، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خو ورځنی تعلیم او صحبت په برکت د ده اصحاب رضی الله تعالیٰ عنهم د ګردی (ټولی) دنیا لارښوونکی او معلمان شول. نو دوی لره ښائی چه د دی لوی نعمت قدر وپیژنی، او هیڅکله په هیره سره هم هسی کوم حرکت ته اقدام ونه کړی چه له هغه څخه د دوی زړه خوږ او متالم شی. (د«ان کانو» ان له مثقلی ځنی مخففه شوی ده او د «هم» ضمیر پکښی مستتر دی او دا مخکښی لام فاصل دی.)

اَوَلَمَّآ اَصَابَتْكُمْ مُّصِيْبَةٌ قَدْ اَصَبْتُمْ مِّثْلَيْهَا قُلْتُمْ اَنّٰى هٰذَا ؕ

آیا کله چه دررورسید تاسی ته (په احد کښی له کفارو څخه) یو مصیبت چه په تحقیق سره رسولی ؤ تاسی (کفارو ته په بدر کښی) دوه چنده له دی غمه نو وویل تاسی له کومه دا (غم راغی مونږ ته؟) یا رسیدلی وئ تاسی په دوه چنده له نصرته (ای مسلمانانو په بدر کښی) نو وویل تاسی له کومه دا (غم راغی مونږ ته؟)،

**تفسیر:** لومړی د «احد» قصه کیده. په منځ کښی د هغه تقصیر د عفوی ذکر راغی چه واقع شوی ؤ او د هغه په تناسب د نبی کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم د اخلاقو او د حقوقو یادونه

وکړی شوه اوس بیا د «احد» د قصې په لوری رجوع کیږی یعنی «د احد» په غزا کښې هغه تکلیف او نقصان چه تاسې وګاله (تیر کړ)، د هغه په نسبت په تعجب سره وایئ چه دا مصیبت له کومه راغی؟ مونږ خو مسلمانان مجاهدین وو او د الله تعالیٰ په لاره کښې د ده له دښمنانو سره د جنګیدلو له پاره وتلی وو او الله تعالیٰ د پاک رسول صلی الله علیه وسلم په مبارکه ژبه مونږ ته د نصرت او مرستې وعده هم راکړې وه نو بیا دا مصیبت پر مونږ باندې ولې نازل شو؟ او له کومه راورسید؟ د هسې وینا کولو په وخت کښې داسې فکر کول په کار دی، چه هومره تکلیف چه تاسې ته رسیدلی دی، د هغه تکلیف دوه چنده ستاسې له لاسه کفارو ته هم رسیدلی دی. په «احد» کښې تقریباً ستاسې (۷۰) تنه شهیدان شول او په «بدر» کښې د کفارو (۷۰) تنه ووژل شول او (۷۰) تنه نور کافران داسې بندیان شول چه د هغوی وژل ستاسې په پوره واک (قبضه) کښې وو بیا په «احد» کښې هم لومړی د کفارو زیات له شلو تنو مقتولان شول. که د لږې مودې له مخې تاسې مغلوبان شوئ! نو په «بدر» کښې تاسې کفارو ته سخته ماته ورسولې وه او په «احد» کښې هم کله چه تاسې خپلې پښې ټینګې او په میړانه وجنګیدئ! نو کفار وتښتیدل او د جنګ ډګر ئې پریښود. نو په داسې صورت کښې انصافاً تاسې لره له خپلو تکالیفو څخه د شکایت کولو او زیات خپه کیدلو موقع نه ده پاتې.

---

# قُلْ هُوَ مِنْ عِنْدِ أَنْفُسِكُمْ ط

---

**ووایه (ای محمده! دوی ته) چه دا (مصیبت او تکلیف) له جانبه د نفسونو ستاسې دی!،**

---

**تفسیر :** که غور وکړئ نو تاسې په خپله د هم دې مصیبت سبب یئ! تاسې له ډیره څوښه د رسول مبارک او د ډیرو تجربه لرونکو نظریات ونه منل او پخپله خوښه او اختیار مو له مدینې منورې څخه د باندې د جنګ محاذ قائم کړ بیا سره له شدیدې نهې غشو ویشتونکو خپل مهم سنګرونه (مورچې) تش پریښودل او یو کال پخوا کله چه د «بدر» د بندیانو په نسبت تاسې ته اختیار درکړ شو چه یا دوی ووژنئ! یا «فدیه» ترې واخلئ او خوشې ئې کړئ مګر په دې صورت کښې به خامخا په راتلونکی کال کښې هم دومره کسان له تاسې څخنې ووژل شي خو تاسې فدیه غوره او هم هغومره کسان مو ووژل شول اوس هم هغه وعده تر سره شوه نو تعجب او انکار ته هیڅ یوه موقع نه ده پاتې. دا شی خو په خپله ستاسې له خوا منلی شوی دی. (د «بدر» د بندیانو پوره قصه ده «الانفال» په سورت کښې راځی.)

---

# إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٦٥﴾ وَمَا أَصَابَكُمْ يَوْمَ

---

الْتَقَى الْجَمْعٰنِ فَبِاِذْنِ اللّٰهِ وَلِيَعْلَمَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٦٦﴾ وَلِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ نَافَقُوْا

بیشکه الله پر هر شي باندی (چه اراده وفرمائی) ښه قادر دی (نو قادر دی په نصرت او خذلان هم). او هغه (غم) چه درسیدلی دی تاسی ته په هغی ورځی کښې چه سره یو ځای شوی وو دوه فوځونه پس (هغه په اذن (حکم) د الله سره ؤ او له پاره د دی ؤ چه معلوم (ښکاره) کړی «الله» مؤمنان او (بل) له پاره د دی ؤ چه معلوم (ښکاره) کړی «الله» هغه کسان چه نفاق ئی کړی ؤ،

تفسیر : کله چه الله تعالیٰ اراده وفرمائی بری ورکوی او کله چه اراده وفرمائی ماتی ور په برخه کوی. مغلوبیت د دی له امله (وجی) نه دی چه الله تعالیٰ په هغه وخت کښې پر بری ورکولو باندی قادر نه ؤ بلکه د دی له پاره دی چه ستاسی له کسب او اختیار څخه داسی یو صورت پیدا شوی دی چه په کلی غلبې ورکولو کښې مصلحت نه ؤ په هر حال هر څه چه شوی دی د الله تعالیٰ په حکم او مشیت سره شوی دی چه د هغه سبب تاسی وئ! او په هغه کښې حکمت دا ؤ چه له یوه لوری د هر مخلص مؤمن د ایمان او د اخلاص او له بل لوری د هر منافق د نفاق درجه ظاهره شی، اومه او پاخه، سره او ناسره، کامل او ناقص سره جلا (جدا) او د مخلص او غیر مخلص په منځ کښې هیڅ التباس پاتی نشی. او دا ګرد (تول) په علم شهودی سره هم همغسی معلوم کړی لکه چه په علم غیبی سره ورته معلوم دی.

وَقِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا قَاتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَوِادْفَعُوْا

او وویلی شو دغو (بیرته تلونکو منافقانو) ته چه راځئ (احد ته) غزا وکړئ (له کفارو سره) په لاره د الله کښې یا مدافعه وکړئ! (د دښمن له نفسونو او مالونو او کورونو خپلو!)

تفسیر: د جنګ له شروع کیدلو څخه پخوا کله چه رئیس المنافقین عبدالله بن ابی غوښتل چه له (٣٠٠) سریو سره بیرته ستانه (واپس) شی نو په دی وخت کښې هغو ته وویل شول چه «د جنګ په عین موقع کښې چیری تښتئ؟ که د اسلام په دعوی کښې صادق یئ! نو واخلئ! د الله تعالیٰ په لاره کښې جنګ وکړئ! که نه اقلا د دښمن په مدافعه کښې څه برخه واخلئ! یعنی له اسلامی لښکر سره مله شئ! چه د تعداد د کثرت اثر پر غلیم باندی ولویږی. یا دا که د الله تعالیٰ په لاره کښې د دین له پاره نه جنګیږئ، نو د وطنی او قومی حمیت او غیرت یا د خپلو اموالو او اولادونو د حفاظت له پاره خو د دښمن مدافعه وکړئ! ځکه که دښمن بری وموند نو په انتقام اخیستلو کښې به د مؤمنانو او منافقانو په منځ کښې هیڅ تمیز او تفریق نه کوی. او د نورو

مسلمانانو په شان به تاسی ته هم نقصان دررسیږی.» الغرض پر دوی باندی له هر پلوه د دوی د ذوق سره سم د حجت اتمام وکړی شو، تر څو هر څه چه د دوی په زړونو کښی وی، علانیه ظاهر شی.

## قَالُوا لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا لَّاتَّبَعْنَاكُمْ ۗ

نو وویل دی (منافقانو) که مونږ پوهیدی په جنګ نو هرومرو (خامخا) به مونږه متابعت کړی ؤ ستاسی.

**تفسیر :** یعنی جنګ پیښیدل مونږ ته یقینی په نظر نه راځی او دا خوشی چتی یوه اوازه ده. که مونږ پوهیدو چه په رښتیا سره جنګ پیښیدونکی دی، نو هرومرو (خامخا) به له تاسو سره تلو، کله چه مونږ وګورو چه په رښتیا سره جنګ پیښیدونکی دی، نو خامخا به مو ستاسی سره ملګرتیا کوله. یا دا مطلب که کومه منظمه او باقاعده مقابله وی، نو مونږ به له تاسی سره پاتی کیدو، ښه نو دا کومه مقابله ده، چه له یوه جانبه (۳۰۰۰) لښکر، او له بله جانبه یوازی (۱۰۰۰) بی وسلی او بی سامانه مسلمانان وی. دا خو جنګ نه دی، محض خپل ځان په هلاکت کښی غورځول دی. یا له «لو نعلم قتالاً» څخه ئی دا ښکارول چه خانه! که مونږ په جنګی فنونو ، اصولو او ترتیباتو پوهیدی، نو له تاسی سره به پاتی کیدو، ګواکی په زړه کښی ئی طعنی ورکولی، چه زمونږ پر مشورو باندی تاسی تګ ونه کړ. او د نورو په نظریو باندی تاسی عمل وکړ، نو مونږ ستاسی په نزد د جنګ له اصوله ناپوهان یو، او تاسی پوهان یئ! نو د څه له پاره له خپلو ځانو سره بیایئ؟ لنده ئی دا چه د دروغو پلمی (بهانی) ئی جوړی کړی، او بیرته لاړل. الله تعالیٰ د منافقانو په تکذیب کښی وائی.

## هُمْ لِلْكُفْرِ يَوْمَئِذٍ أَقْرَبُ مِنْهُمْ لِلْإِيمَانِ ۚ

دوی کفر ته په دغی ورځی کښی (چه دغه خبره ئی کوله) ډیر نژدی وو له دوی نه په نسبت سره د ایمان.

**تفسیر :** منافقان په زړه کافران او په خوله مسلمانان وو. او تش په ژبه له مسلمانانو سره یو ځای وو. د «احد» د جنګ په عین موقع کښی دوی له نبی علیه السلام او نورو مسلمانانو څخه جلا (جدا) او بیرته ستانه (واپس) شول، او حیلی او پلمی (بهانی) ئی جوړی کړی د دی دوه کارونو څخه د دوی نفاق څرګند شو اوس په ظاهر کښی هم دوی د ایمان په نسبت کفر ته ډیر نژدی شوی دی، او پخپل دی فعل سره مسلمانانو ته زیان او کفارو ته تقویه رسوی.

يَقُولُونَ بِأَفْوَاهِهِمْ مَّا لَيْسَ فِي قُلُوبِهِمْ ۗ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يَكْتُمُونَ ﴿١٦٧﴾

وائی دوی (منافقان) په خولو خپلو سره هغه (خبره) چه نشته (پری تصدیق) په زړونو د دوی کښې، او الله ښه پوه دی په هغه څه (هم) چه پټوی ئی دوی (په زړونو خپلو کښې له حسد او کفره).

**تفسیر:** یعنی په ژبه خو دوی ﴿ لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا لَّاتَّبَعْنَاكُمْ ﴾ ویل، او هغه شی چه د دوی په زړونو کښې دی صاف ئی نه وائی د دوی په زړونو کښې دا ؤ. «ښه دی چه مسلمانان مغلوب او ذلیل شی او مونږ له دیری خوښی څخه اتڼونه واچوو.»

الَّذِينَ قَالُوا لِإِخْوَانِهِمْ وَقَعَدُوا لَوْ أَطَاعُونَا مَا قُتِلُوا ۗ

هغه (منافقان) چه ویل ئی په (حق د) ورونو خپلو کښې حال دا چه دوی (پخپله) ناست وو (له جنګه) که دوی (د احد غازیانو) زمونږ خبری منلی وی نو نه به وو وژل شوی،

**تفسیر :** یعنی پخپله نامرادان شول او بیرته کیناستل، او د خپل د تبر ورونو د مدینی انصارو ته وائی که زمونږ خبرو ته مو غوږ نیولی وی، او پخپلو کورونو کښې آرام ناست وی نو هیڅکله به نه وژل کیدئ!

قُلْ فَادْرَءُوا عَنْ أَنفُسِكُمُ الْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿١٦٨﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) نو لری کړئ تاسی له نفسونو (ځانونو) خپلو څخه مرګ که یئ تاسی صادقان (رښتینی په دی خبره چه تاسی سره د مرګ دفعه شته).

**تفسیر:** یعنی که د کور په کیناستلو سره ځانونه ژغورل (ساتل) کیږی نو ګورو به چه د مرګ مخه به تاسی څرنګه ونیسئ چه تاسی کورو ته ورننوځئ که سره له دی چه په کورونو کښې پاتی شوی یئ، بیا هم د مرګی له منګولو څنی ځانونه نشئ ژغورلی (بچ کولی)، نو بیا ولی د توریالیو (بهادرو) غوندی د جنګ په میدان کښې د عزت مرګ نه غوره کوئ؟

وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا ۚ بَلْ أَحْيَاءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ ﴿١٦٩﴾ فَرِحِينَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا بِهِم مِّنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿١٧٠﴾ يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ وَفَضْلٍ وَأَنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٧١﴾

او له سره گمان مه کوی! (ای محمده یا ای سامعه!) پر هغو کسانو چه وژل شوی دی دوی په لاره د الله (جهاد او طاعت) کښی د مړو (مړه نه دی)، بلکه ژوندی دی په نزد د رب خپل رزق ورته ورکولی شی (له جنتی ماکولاتو او مشروباتو څخه) په دی حال کښی چه خوشاله دی دوی په هغه شی باندی چه ورکړی دی دوی ته الله له فضله خپله او خوشالیږی دوی (په راتلو د) هغو کسانو باندی چه لا نه دی رسیدلی دوی تر هغو پوری وروسته د دوی نه په دی شان سره چه نه به وی (هیڅ قسم) ویره په دوی باندی او نه به دوی (هیچری) غمجن کیږی (د ثواب په نقصان سره) خوشالیږی دوی په نعمت سره له (جانبه د) الله او (د ده په) فضل سره او (په دی سره چه) بیشکه الله نه ضائع کوی اجر د مؤمنانو (بلکه پوره ئی ورکوی).

**تفسیر :** یعنی د کور ناستی د مرگ مخه نشی نیوی. هو! سری له هغه مرگه بی برخی کوی چه د مرگ په ځای ورته ابدی ژوندون ویلی شی. شهیدانو ته وروسته له شهادته یو مخصوص ډول (طریقه) ژوند ور په برخه کیږی چه نورو مړو ته هغسی ژوند نه ورکاوه کیږی. دوی ته د الله تعالیٰ ممتاز قرب حاصلیږی. او په خورا (ډیر) لویو درجاتو او مقاماتو باندی فائز کیږی. د جنت رزق دوی ته په آزادی سره وررسیږی څرنگه چه مونږ په یوه طیاره کښی کینو، او په ډیر لږ وخت کښی هر چیری چه مو زړه وغواړی. الوځو او درومو، د شهیدانو ارواح هم د «طیور خضر» په حواصلو یعنی د شنو مرغانو په ججورو کښی ننوځی او د جنت ننداری کوی. د دی «طیور خضر ـ شنو مرغانو» کیفیت او لویوالی الله تعالیٰ ته معلوم دی. د هغه ځای شیونه زمونږ د خیال په احاطه کښی کله راتلی شی. په دی وخت کښی شهیدان په بیشانه خوشال وی او په مسرت او بهجت (خوشحالی) سره، په گوری چه الله تعالیٰ دوی ته په خپل فضل سره د شهادت

دولت عنایت فرمایلی دی، او پخپلو عظیم الشان نعمتونو سره ئی پاللی دی او پخپل فضل سره ئی هره شیبه هغوی ته د زیاتو نعمتونو سلسله قائمه کړی ده دا شهیدان د هغو وعدو په لیدلو چه د رسولانو په ژبو د شهداؤ په نسبت ورکړی شوی دی ډیر زیات خوشالیږی. او پخپلو سترګو ګوری چه الله تعالیٰ د ایماندارانو محنت نه ضائع کوی، بلکه د خیال او ګمان له میچه زیات بدل هغوی ته ورکوی. بیا نه یواځی دا چه دوی پخپلو احوالو باندی دومره خوښ او خوشال دی، بلکه د هغو مسلمانانو ورونو له تصوره چه له دوی څخه وروسته پاتی دی او په فی سبیل الله «جهاد» او نورو خیریه ؤ امورو کښی مشغول دی او هغوی ته به هم، که زمونږ په شان د الله تعالیٰ په لاره کښی ووژل شی یا اقلا د ایمان له دولت سره ومری، د دوی له ایمانی رتبی او حیثیت سره سم هم داسی خوندور او بی ویری ژوندون به وربه برخه کیږی او دلته به مزی کوی، نه به د مقدم غم او نه به د مؤخر ویره له دوی سره وی. مامون او مطمئن به د الله جل جلاله په رحمت کښی برابر داخلیږی لا ډیره خوښی ورحاصلیږی. په ځینو روایتونو کښی راغلی دی چه د «احد» یا د (بیر معونه) شهیدان جنت ته رسیدلی، له الله تعالی څخه ئی تمنا کړی. «کشکه زمونږ د دی عیش او تنعم خبر زمونږ نورو ورونو ته څوک ورسوی چه هغوی د دی خوندور ژوند په لوری ژر راوځغلی او ځانونه له مونږ سره ونښلوی او له «جهاد» ځنی خپل ځانونه هیڅ ونه ساتی.» حق تعالیٰ وفرمایل چه زه ئی ور رسوم. نو ئی دا آیت نازل او دوی ئی هم مطلع کړل چه مونږ ستاسو له امیدونو سره سم دا خبر دنیا ته وررساوه. نو هغه شهیدان له دی ځنی لا خوشال شول.

---

ٱلَّذِينَ ٱسْتَجَابُوا۟ لِلَّهِ وَٱلرَّسُولِ مِنۢ بَعْدِ مَآ أَصَابَهُمُ ٱلْقَرْحُ ۚ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا۟ مِنْهُمْ وَٱتَّقَوْا۟ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿١٧٢﴾ ٱلَّذِينَ قَالَ لَهُمُ ٱلنَّاسُ إِنَّ ٱلنَّاسَ قَدْ جَمَعُوا۟ لَكُمْ فَٱخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَٰنًا وَقَالُوا۟ حَسْبُنَا ٱللَّهُ وَنِعْمَ ٱلْوَكِيلُ ﴿١٧٣﴾

---

هغه کسان چه حکم ئی منلی دی د الله او (حکم ئی منلی دی د) رسول (د الله) پس له هغه چه رسیدلی ؤ دوی ته زخم (تکلیف مشقت) شته له پاره د هغو کسانو چه نیکی ئی کړی له دوی نه (د الله د حکم په منلو سره) او پرهیزګاری ئی کړی ده (له مخالفته) اجر ډیر لوی (د جنت) (دوی) هغه کسان دی چه وویل دوی ته(ځینو) خلقو چه بیشکه خلق (د مکی) په تحقیق سره راتول شوی دی ستاسی (د جنګ) له پاره نو وویریږئ! له دوی نه (یا) په

تحقیق سره تول کړی ئی دی (سامان د مقابلې) ستاسی له پاره نو وویرېږئ له دوی نه پس (دغو ویرولو) لا زیات کړ ایمان د دوی (یقین زړورتوب) او وویل دوی بس دی مونږ ته الله او ښومره ښه وکیل (کار جوړوونکی) دی (الله).

**تفسیر** : «والذین» صفت دی له پاره د مؤمنین. یا منصوب دی په مدح سره. یا مبتداء دی او خبر ئی «للذین احسنوا» توله جمله ده، او (من) بیانیه دی. او مقصود له احسان او تقویٰ څخه تش مدح او تعلیل دی. نه تقئید ځکه چه دوی گرد (تول) سره محسنین او متقین وو. کله چه ابوسفیان له «احد» څخه د مکی معظمی په لوری بیرته رهی (روان) شو نو په لاره کښی دا خیال ورته پیدا شو. چه له مونږ ځنی لویه غلطی وشوه چه مجروح او مغلوب مسلمانان مو هم هغسی پریښودل او بیرته تری راغلو نو ئی جرگه سره وکړه او دا ئی سره غوته کړه چه راځئ! بیرته مدینی ته لاړ شو. او د هغو قصه بیخی پای ته ورسو. کله چه دا خبر رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورسید نو اعلان ئی وکړ. «هغه غازیان چه پرون له مونږه سره په غزا کښی شریکان وو نن دی بیا د دښمن د تعقیب له پاره تیار شی!» مجاهدین سره له دی چه ستړی او ستومان او له زخمونو ځنی ئی وینی بهیدی، د الله تعالیٰ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دی دعوت ځواب ئی په (لبیک) سره ووایه رسول الله مبارک د مجاهدینو د لښکر سره تر یوه ځای پوری چه (حمراءالاسد) نومیږی او له مدینی منوری څخه تقریباً اته میله لری دی لاړل. د ابوسفیان په زړه کښی د دی خبری له اوریدلو څخه چه مسلمانان زمونږ د تعاقب له پاره رادرومی سخته ویره ولویده او د خپلی دوهم ځلی حملی اراده ئی فسخه کړه او په ډیر تلوار د مکی معظمی په لوری په منډو شول. د عبدالقیس یوه تجارتی قافله د مدینی منوری په لوری راتله ابوسفیان د دی قافلی سریو ته څه رشوت (بدی) ورکړی او دوی ئی په دی باندی وادار کړل. چه «تاسی په مدینی منوری کښی داسی اخبار نشر کړی چه د هغو له اوریدلو څخه مسلمانان له مونږ مکیانو ځنی وویرېږی کله چه هغوی په مدینی منوری کښی دا خبر مشهور او خور کړ، چه «مکیانو بیا یو لوی لښکر او ډیر سامان د مسلمانانو د استیصال او بیخ ویستلو په نیت سره تول کړی دی.» د دی خبری د اوریدلو په اثر د مسلمانانو په زړونو کښی د خوف او ویری په ځای اسلامی ځوښ او ایمانی خروش پیدا شو. او د کفارو د اجتماع او د احوالو له اوریدلو څخه ئی وویل ﴿حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ﴾ د گردی (تولی) دنیا په مقابل کښی مونږ لره یواځی الله تعالیٰ کافی دی! نو په دی مناسبت دا آیت نازل شو. ځینی وائی چه د «احد» د غزا په اخر کښی ابوسفیان اعلان کړی ؤ چه «په بل کال کښی به بیا په (بدر) کښی سره جنگیږو.» رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دا وومانه. کله چه بل کال راغی رسول الله مبارک مسلمانانو ته حکم وکړ چه د «جهاد» له پاره لاړ شئ! او که څوک نه ځی نو د الله تعالیٰ رسول به یواځی ولاړ شی.» له هغه لوری ابوسفیان له خپلو لښکرو سره له مکی معظمی څخه ووت، لږ څه لری ولاړل خو ژر ئی د همت ملا ماته شوه او سخت وویریدل او د قحط پلمه (بهانه) ئی

جوړه کړه او بیرته مکې معظمې ته ستانه (واپس) شول. مګر داسې صورت ئې وسنجاوه (داسې صورت جوړ کړ) چه الزام پر مسلمانانو باندې راولې یو سړی مدینې منورې ته رهي (روان) ؤ، هغه ته ئې څه مبلغ ورکړ او وئې ویل هلته داسې خبرې نشر کړه چه د هغو له اوریدلو څخه د مسلمانانو همت سست او په دوی کښې ویره ولویږي او د جنګ له پاره راونه وځي.» کله چه دی مدینې منورې ته ورسید داسې خبر ئې مشهور کړ چه «مکیانو خورا (ډیر) ډیر لښکر سره تول کړی دی که تاسې له هغوی سره ونه جنګیږئ، نو دا به ښه وی.» حق تعالیٰ په دې وخت کښې مسلمانانو ته استقامت او ثبات مرحمت کړ. او دوی ګردو (تولو) داسې وویل «مونږ ته پاک الله کافي دی» بالاخر مسلمانان له هم هغې وعدې سره سم د «بدر» په لورې وخوځیدل چه هلته لوی موسمي بازار جوړ شوی ؤ، مجاهدینو تر دریو ورځو هلته تجارت وکړ او ښې ګټې ئې ترې واخیستې او بیرته مدینې منورې ته راغلل. دې غزا ته «بدر الصغریٰ» وائې په دې وخت کښې هغه کسان چه ملګرتیا ئې وکړه او تیار شول دوی ته داسې بشارت ورکړ شو. سره له دې چه په «احد» کښې زخمیان شوي وو او سخت زیانونه ئې ګاللي (تیر کړي) وو، دوی بیا داسې جرأت وکړ. د مسلمانانو د دې جرأت او چمتووالي (تیارئ) د خبر اوریدلو څخه مشرکان له لارې څخه بیرته وګرځیدل. مکیانو د دې لښکرکښې نوم «جیش السویق» کیښود یعنې هغه لښکر چه یواځې ستوان ئې وخوړل، او بیرته ستانه (واپس) شول.

**تنبیه:** ﴿لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا مِنْهُمْ وَاتَّقَوْا﴾ یوازې د دوی د مدحې، ستاینې او د شان د لوړولو له پاره دی که نه هغوی ګرد (تول) سره هم داسې وو.

---

فَانْقَلَبُوا بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ وَفَضْلٍ لَّمْ يَمْسَسْهُمْ سُوءٌ وَاتَّبَعُوا رِضْوَانَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَظِيمٍ ﴿١٧٤﴾

---

نو بیرته راوګرځیدل (دا مومنان) په نعمت سره له (جانبه د) الله او (په) فضل «احسان او رحمت سره له الله نه» چه ونه رسیده دوی ته هیڅ بدي (نه زخم نه قتل نه هزیمت) او تابعان شول دوی د رضامندۍ د الله، او الله څښتن (مالک) د فضل (احسان رحمت) ډیر لوی دی.

---

**تفسیر:** یعنې د الله تعالیٰ فضل ته وګورئ! چه نه جنګ او جګړه وریپښه شوه نه کوم اغزی د دوی په پښو کښې مات شو او ویریا ئې ثواب وګاته او له تجارت څخه ئې ګټې واخستلې او پر دښمنانو باندې ئې خپله ویره کیښوده او خپل شان شوکت ئې ورښکند کړه. او د الله تعالیٰ له خوښۍ سره بیرته صحیح سالم او (روغ، رمټ) خپلو کورونو ته وګرځیدل.

**تنبیه** د «بدر صغریٰ» په شان د «حمراءالاسد» په غزا کښې هم له یوې تجارتي قافلې سره د

مالونو بیع او شراء (پیرودل او پلورل) شوی وو او مسلمانانو له هغه تجارت څخه ډیره ګټه اخیستی وه اغلباً له «فضل» څخه هم دغه مالی نفع مراد ده.

إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ الشَّيْطَانُ يُخَوِّفُ أَوْلِيَاءَهُ فَلَا تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٧٥﴾

بیشکه دا سړی شیطان دی چه ویروی تاسی (ای مؤمنانو) له دوستانو خپلو (چه کفار دی) نو مه ویریږئ تاسی له کفارو! او وویریږئ زما (د احکامو له ترک) څخه! که یئ تاسی مؤمنان (په حق سره).

**تفسیر:** (په «یخوف اولیاءه» کښې اول مفعول محذوف دی. «ای یخوفکم اولیاؤه الکفار» یعنی څوک چه له هغه لوری څخه راغی او ویروونکی خبری خپروی هغه شیطان دی یا د شیطان په اغواء سره داسی کوی چه له دی نه د هغه مقصد دا دی چه د خپلو لویو ملګرو او د نورو خپلوانو خوف او ویره پر تاسی باندی واچوی نو که تاسی مؤمنان یئ او هرو مرو ایمان لرونکی هم یئ لکه چه د هغه ثبوت تاسی عملاً راښودلی دی نو له دی شیطانانو څخنی بیخی مه ویریږئ! او یوازی له ما څخنی وویریږئ!
له الله نه که ویریږی پرهیزګار شه! ښه سړی ـ جن او انس به دی صفت کړی تول دی بولی ښه سړی

وَلَا يَحْزُنكَ الَّذِينَ يُسَارِعُونَ فِي الْكُفْرِ ۚ إِنَّهُمْ لَن يَضُرُّوا اللَّهَ شَيْئًا ۗ
يُرِيدُ اللَّهُ أَلَّا يَجْعَلَ لَهُمْ حَظًّا فِي الْآخِرَةِ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٧٦﴾

او نه دی غمجن کړی تا هغه کسان چه منډی وهی (جلتی کوی) دوی په جانب د کفر (د منافقانو او مرتدانو) بیشکه دوی به له سره هیڅ ضرر نه رسوی الله ته د هیڅ شی (بلکه ضرر رسوی ځانونو خپلو ته)، اراده لری الله د دی چه مقرر نه کړی د دوی له پاره هیڅ برخه (نعمت) په آخرت کښې او (مقرر) دی دوی لره عذاب ډیر لوی (د دوزخ سره د ثواب له حرمانه).

**تفسير:** يعني د شيطانانو له دارولو ځني مؤمنان نه داريږي!. هو! منافقان د دوی خبرو ته غوږ ږدي او د کفر په لوری مندی وهی تاسی د دی ملعونانو منافقانو له حرکاتو ځني مه خپه او مه اندیښمن کیږئ! دوی د الله تعالیٰ دین او د ده د رسول هیڅ شی نشی خرابولی او یوازی خپل ځان ته زیان رسوی د دوی له حده تیر نفاق او شقاق دا راښئی چه حق تعالیٰ به دوی د کار په انجام کښی له حقیقی بری او ګټی ځنی بی برخی کړی او سخته سزا به ورکړی. هغه کسان چه داسی معاند، شریر او کاږه تلونکی وی د الله تعالیٰ عادت له هغوی سره تل هم داسی دی. نو ضرور نه ده چه ته د هسی خلقو په غم کښی غمجن او خپه شی.

---

إِنَّ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الْكُفْرَ بِالْإِيمَانِ لَن يَضُرُّوا اللَّهَ شَيْئًا وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٧٧﴾

---

بیشکه هغو کسانو چه پیرودلی ئی دی (بدل کړی ئی دی) کفر په ایمان سره له سره به ضرر نه رسوی دوی الله ته هیڅ شی او (مقرر دی) دوی ته عذاب دردناک (د دوزخ).

---

**تفسير:** دغه تکرار د تاکید له پاره دی او د منافقانو او مرتدانو له تخصیص څخه وروسته تولو کفارو ته شامل دی یعنی هغه کسان چه فطری ایمان ئی بدل او کفر ئی اختیار کړ اعم له دی نه چه یهودی وی که نصرانی مشرک وی که منافق یا بل څوک او دوی ګرد (تول) سره یو ځای هم شی خو بیا هم دوی ګرد(تول) سره د الله تعالی هیڅ یو شی نشی خرابولی. هو! دوی په خپل لاس خپله پښه په تبر وهی چه په نتیجه کښی به د دردناک عذاب مورد ګرځی.

---

وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّمَا نُمْلِي لَهُمْ خَيْرٌ
لِّأَنفُسِهِمْ إِنَّمَا نُمْلِي لَهُمْ لِيَزْدَادُوا إِثْمًا وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿١٧٨﴾

---

او نه دی ګمان کوی هغه کسان چه کافران شوی دی چه بیشکه دا چه مهلت ورکوو مونږ دوی ته خیر (غوره) دی له پاره د ځانونو د دوی (داسی نه ده بلکه) بیشکه هم دا خبره ده چه تل مهلت ورکوو مونږ دوی ته له پاره د دی چه زیاته کړی دوی ګناه او (مقرر) دی دوی ته عذاب سپکونکی.

**تفسیر:** یعنی امکان لری چه کافران خپل اوږد عمر، خوښی، خوشالی، دولت، ثروت عزت او د نورو شیانو زیادت ته وګوری هسی اتکل وکړی که مونږ په رښتیا سره مغضوب او مطرود وی نو دومره فراخی او مهلت ولی راکاوه کیږی؟ او د هسی ښه ژوندون او ارام په حالت کښی د څه له پاره شپی او ورځی تیرووْ؟ نو واضحه دی وی، چه دغه مهلت ورکول د دوی په حق کښی کومه ښه خبره نه ده. او د مهلت ورکولو نتیجه به خو هم داسی وی چه دوی به بیخی په ګناهونو کښی ډوبیږی او د کفر په حالت کښی به مری نو دوی دی په خپل اختیار او د پوره آزادی سره ښه په زړه پوری ارمانونه وباسی او د ګناهونو خورا (ډیره) لویه او مهمه ذخیره دی د خپل ځان له پاره توله کړی دوی هسی فکر کوی چه مونږ په خورا (ډیر) لوی عزت کښی یو حال دا چه ډیر ذلیل او خورا (ډیر) سپکوونکی عذاب د دوی له پاره تیار دی. نو اوس قضاوت او ښه فکر پکښی وکړئ! چه دغه مهلت د هسی کسانو په حق کښی ښه دی که بد؟ (نعوذ بالله من شرور انفسنا).

مَا كَانَ اللّٰهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِيْنَ عَلٰى مَآ اَنْتُمْ عَلَيْهِ حَتّٰى يَمِيْزَ الْخَبِيْثَ مِنَ الطَّيِّبِ ؕ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ وَ لٰكِنَّ اللّٰهَ يَجْتَبِيْ مِنْ رُّسُلِهٖ مَنْ يَّشَآءُ

نه دی الله چه پریږدی مؤمنان په هغه حال (د اختلاط) چه یئ تاسی (ای خلقو!) پر هغه تر څو چه جلا (جدا) کړی (الله) ناپاکه له پاکه څخنی، او نه دی الله چه خبر کاندی تاسی په غیب باندی (چه د منافقانو تمیز دی له مخلصانو څخه) ولیکن الله غوره کوی له رسولانو خپلو څخه چه اراده وفرمائی (د غوره کولو ئی)،

**تفسیر:** یعنی همغسی چه د دنیا خوشالی او مهلت د کفارو په حق کښی د مقبولیت دلیل نه دی، هم داسی که مخلصو مسلمانانو ته مصیبتونه او نامناسبه حوادث (د احد د غزا په شان) وریپیښ شی نو هغه هم د دی خبری دلیل نشی کیدی چه هغوی د الله تعالیٰ په نزد مغضوب دی. خبره دا ده چه الله تعالیٰ مسلمانان هسی بی خبره او ناواقفه نه پریږدی چه تراوسه پاتی دی. یعنی ډیر کفارو به د نفاق له لاری د اسلام کلمه ویله، او د تیرایستلو له پاره به له دوی سره ګډیدل چه د دوی د ظاهری احوالو په لحاظ د منافق د لفظ ویل ورته مشکل ؤ نو ځکه ضروری ده چه الله تعالیٰ داسی واقعات او حالات وړاندی کړی چه د هغو په وسیله، سره او ناسره بیل شی او پاک، ناپاک، اومه او پاخه په ښکاره ډول (طریقه) سره جلا (جدا) شی. بیشکه چه الله

تعالىٰ ته آسان ؤ چه ګرد (تول)مسلمانان بې له امتحانه د منافقانو له نومونو او کارونو څخه خبر کړي ليکن د هغه حکمت او مصلحت د دې مقتضىٰ نه دی چه ګرد (تول) خلق له دې راز (قسم) غيبي امورو څخنې خبر کړي. هو! د هسې کارونو له پاره خپل رسولان انتخابوي او د څومره غيبي اطلاعاتو او يقيني اخبارونو د اطلاع ورکولو اراده چه وفرمائي هم هغومره ورکوي خلاصه ئې داسې شوه چه «عامو خلقو ته بې واسطه د کومې پټې خبرې يقيني اطلاع نه ورکوله کيږي او (انبياء عليهم السلام) ته هومره اطلاع ورکوي چه د الله تعالىٰ اراده وي.»

فَـَٔامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ ۚ وَإِن تُؤْمِنُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ فَلَكُمْ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿١٧٩﴾

نو ايمان (يقين) ولرئ تاسې (اې مؤمنانو!) پر الله او پر رسولانو د الله، او که په ايمان (يقين) قائم پاتې اوسئ! او پرهيزګاري وکړئ (له بدو کارونو) پس دی تاسې ته اجر ډير لوی(په جنت کښې)

**تفسير** : يعنې د الله تعالىٰ هغه خاصه معامله چه له خپلو انبياؤ عليهم السلام سره ده او د پاک او د ناپاک د جلا (جدا) کولو په نسبت د الله تعالىٰ هغه عمومي عادت چه تل جاري دی په هغه کښې د څه زياتې څيړنې هيڅ ضرورت نشته. ستاسې کار هم دا دی چه د الله تعالىٰ او د رسول الله صلى الله عليه وسلم پر خبرو باندې لا ښه يقين ولرئ! او پر تقوىٰ او پرهيزګاري باندې لا ښه ټينګ واوسئ! که تاسې دا وکړل نو وپوهيږئ! چه تاسې ګرد (تول) شيان وګټل!.

وَلَا يَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ هُوَ خَيْرًا لَّهُم ۖ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ ۖ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا۟ بِهِۦ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ ۗ

او ګمان دې نه کوي له سره هغه کسان چه بخيلي کوي دوی په هغه شي چه ورکړي دي دوی ته الله له فضله خپله چه دا بخل خير دی (غوره دی) دوی ته، بلکه دا (بخل ډير بد) شر دی دوی ته، ژر به په غاړه کښې ورته اميل کړ شي هغه چه بخيلي کړي ده دوی په هغه شي کښې په ورځې د قيامت،

**تفسير:** د دې سورت ابتدائي لويه برخه په کتابيانو (يهودو او نصاراؤ) پورې متعلق وه په منځ کښې د ځينو خاصو مناسباتو او وجوهو په بناء د «احد» د غزا تفصيلات راغلل او هغه ئې د

کفایت په اندازه تمام کړل له دی ځایه بیا د اهل الکتاب د شنائعو بیان کیږی کله چه د دوی په منځ کښی د یهودانو معامله ډیره مضره او تکلیف رسوونکی او زیاتره منافقان هم له یهودانو ځنی وو او په پاس آیت کښی تنبیه ورکړی شوی ده چه الله تعالیٰ اوس طیب (پاک) له خبیث (ناپاک) څخه جدا کوی نو دا جداوالی هم هغسی چه د ځانی او مالی «جهاد» په وخت کښی ظاهریده هم داسی د مالی «جهاد» په وخت کښی هم سره له ناسره او مخلص له غیر مخلص اومه له پخو ځنی پر صاف ډول (طریقه) سره جلا (جدا) کیږی نو ځکه ئی دا راوښودله چه یهودان منافقان هم هغسی چه د «جهاد» په موقع کښی تښتی د مال د صرفولو په وخت کښی هم ځان سپموی (بچ کوی) خو څرنګه چه له «جهاد» ځنی تښتیدل او د څو ورځو مهلت حاصلول د دوی په حق کښی چندان ښه نه دی هم دا راز (قسم) د بخل (کنسکی) او شومتیا له امله (وجی) ډیر مال غونډول هم دوی ته هیڅ ګټه نشی ورسولی. فرض ئی کړئ که په دنیا کښی کوم ربړ (تکلیف) او مصیبت دوی ته ورپیښ نشو، نو د قیامت په ورځ کښی به یقیناً دا تول شوی مال د عذاب په صورت د دوی په غاړه کښی طوق (غاړکئ) غوندی ورولویږی، په دی ضمن کښی ئی مسلمانانو ته هم یادوونه وکړه چه د «زکوٰة» په ورکولو او د نورو ضروری مصارفو په صرفولو کښی هیڅکله نه ښائی چه ځانونه وسپموئ (بچ کوی) که نه هر هغه چا چه په بخل او حرص او نورو رذیلو او سپکو خصلتونو کښی د یهودانو منافقانو دود او دستور اختیاروی هغه ته به د هغه د درجی سره سم هم هغسی سزا ورکوله کیږی. دوی دی منتظر اوسی لکه چه له صحیحه ؤ احادیثو ځنی ثابته ده. «چه د زکوٰة د مانعینو مال به د سخت زهر لرونکی مار په صورت ممثل کیږی (جوړیږی) او د دوی تر غاړی به چاپیریږی.» نعوذ بالله منه!

---

وَلِلّٰهِ مِيْرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

---

او خاص الله لره دی میراث د آسمانونو او د ځمکی (د دغو دواړو د اهل له فنا څخه به وروسته هر څه هم هغه حقیقی وارث او مالک ته پاتی کیږی،)

---

**تفسیر:** یعنی آخر تاسی مرئ! او ستاسی ګرد (تول) مال د هغه د قدرت په لاس کښی پاتی کیږی. چه په حقیقت کښی له پخوا څخه هم د هم هغؤ که هغه انسان په خپل اختیار سره ورکوی نو ثواب به مومی.

---

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿١٨٠﴾

---

او الله پر هغو (کارونو هم) چه کوئ (ئی) تاسی ښه خبردار دی (نو د تولو جزا به درکړی.)

**تفسير :** یعنی بخل یا سخاوت هر څه چه وکړئ او په هر نیت سره چه وی الله تعالیٰ له هغو. ګردو (تولو) څخنی خبردار دی او سم له هغو سره به بدل در کوی.

لَقَدْ سَمِعَ اللَّهُ قَوْلَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ فَقِيرٌ وَنَحْنُ أَغْنِيَاءُ ۘ

خامخا په تحقیق اوریدلی ده الله خبره د هغو کسانو چه ویلی ئی وو بیشکه الله فقیر دی او مونږ غنیان یو (چه له مونږه قرض غواړی).

**تفسير :** یعنی یوازی هم دومره نه ده چه یهودان د ډیر بخل له لاسه د پیسو په صرفولو باندی نه پوهیږی بلکه هر کله چه د الله تعالیٰ په لاره کښی د صرفولو حکم آوری نو توکی کوی او د حق تعالیٰ په جناب کښی سپین سترګی کوی او له چتی (فضول) خبرو څخنی نه شرمیږی لکه څه وخت چه د ﴿ مَن ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا ﴾ آیت نازل شو وی ویل چه الله تعالیٰ له مونږ څخنی قرض غواړی نو الله تعالیٰ فقیر او محتاج او مونږ غنیان یو حال دا چه یو ناپوه او جاهل هم په دی خبره باندی پوهیدی شی، چه د (انفاق فی وجوه الخیر) تعبیر په قرض سره د انتهائی رحمت او شفقت اظهار دی. او دا ښکاره خبره ده چه الله تعالیٰ مونږ ته امر کوی چه د هغه له راکړی مال څخنی د خپلو مصالحو، دینی او دنیوی ګټو له پاره مصرف کړو او د ده لوی ذات ته زمونږ له دی صرفولو هیڅ یوه فائده نه ورسیږی او په فرض محال سره که ورسیږی هم، خو مال او ګرد (تول) شیان د هغه لوی مهربان الله مملوک عطا او احسان دی نو بیا په حقیقی معنی هغه ته مونږ څرنګه قرض ویلی شو. دا د هغه لوی کرم او احسان دی، چه د هغو صرفولو ډیر ښه معاوضه ورکول ئی هم پخپله ذمه نیولی دی او هغه ئی د قرض (پور) په لفظ سره اداء کړی ده، او دا لزوم ئی لا زیات مؤکد او مسجل کړی دی. مګر یهودان د خپل ړوندوالی او د باطنی خبث په سبب د الله تعالیٰ دی احسان منلو په ځای په داسی الفاظو پوری خاندی او ملندی کوی او د الله تعالیٰ په نسبت له داسی مسخرو او توکو څخنی مخ نه اړوی نو ځکه الله تعالیٰ فرمائی چه ما ستاسی دا ګردی (تولی) خبری آوریدلی دی او د هغو په نسبت هره کاروائی چه لازمه وی کوم ئی، تاسی منتظر اوسئ!

سَنَكْتُبُ مَا قَالُوا وَقَتْلَهُمُ الْأَنبِيَاءَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَنَقُولُ ذُوقُوا عَذَابَ الْحَرِيقِ ﴿١٨١﴾

ژر به مونږ لیکلی وساتو هغه خبری چه دوی ویلی دی او (لیکلی به وساتو)

وژل (د نیکونو) د دوی انبیاؤ لره، په ناحقه سره (په خپل اعتقاد سره هم) او وبه وایو مونږ (دوی ته چه) وڅکئ عذاب د اور سوځیدونکی!.

**تفسیر:** یعنی له عامی ضابطی سره سم ستاسی دا ملعون او ناپاکه اقوال د سیئاتو په هم هغه دفتر کښې لیکو چه هلته ستاسی د قوم نور ملعون او ناپاکه افعال هم درج دی. لکه د معصومو انبیاؤ علیهم السلام په ناحقه سره وینی تویول. ځکه همغسی چه دا نامناسبه جمله ستاسی د الله تعالیٰ د پیژندلو یوه نمونه ده هغه نامناسبه کار هم ستاسی د انبیاؤ له تعظیم څخه یوه نمونه ده کله چه ستاسی دا پوره عملنامه دروراندی کړه شی نو هلته به وویل شی چه اوس د خپلو بدیو او شرارتونو خوند وڅکئ! او همغسی چه تاسی په طعن او تمسخر سره د اولیاؤ الله رحمة الله علیهم زړونه سوځول نو اوس تاسی هم د الله تعالیٰ د عذاب په بتی کښې وسوځئ!

ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْكُمْ وَاَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿١٨٢﴾

دا (عذاب) په سبب د هغه دی چه پخوا لیږلی دی لاسونو ستاسی او بیشکه چه الله نه دی ظلم کوونکی په بندګانو.

**تفسیر:** یعنی هر څه چه ئی ګټلی وو هم هغه ئی په مخه ورغلل د الله تعالیٰ له جانبه د یوی ذری په اندازه هم ظلم نه کیږی لکه چه د «النساء» په (٤٠) آیت (٦) رکوع کښې داسی لولو ﴿اِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ﴾ په فرض محال سره که ظلم کول هم د الله تعالیٰ صفت وی نو هغه به هم د الله تعالیٰ د نورو صفاتو په شان پوره او کامل وی نو (معاذالله) که الله تعالیٰ ظالم فرض کړی شی نو بیا ظالم نه بلکه باید ظلام ورته ویل شوی وی او د ده یوه ذره ظلم به له لویو غرونو څخنی کم نه وی. ګویکی د «ظلام» صیغه ئی راوړه او تنبیه ئی وکړه چه د ده په دربار کښې د ادنیٰ څخنی ادنیٰ ظلم تجویز د انتهائی ظلم له منلو سره مرادف دی «**تعالیٰ الله عما یقول الظالمون علواً کبیراً**»

اَلَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ عَهِدَ اِلَيْنَآ اَلَّا نُؤْمِنَ لِرَسُوْلٍ حَتّٰى يَاْتِيَنَا بِقُرْبَانٍ تَاْكُلُهُ النَّارُ ؕ

هغه کسان چه وائی بیشکه الله پیغام کړی دی مونږ ته چه ایمان به نه راوړو مونږ په هیڅ رسول تر هغه پوری چه راوړی مونږ ته (هسی) قربانی چه ئی وخوری اور،

**تفسیر:** له ځینو رسولانو څخنی داسی معجزی ظاهری شوی وی چه قربانی یا بل کوم شی به ئی د الله تعالیٰ په نامه نذر کاوه نو له آسمانه به اور راته او هغه به ئی خوړ او دا به د قبول علامه وه لکه چه په موجوده «بائیبل، انجیل» کښی د حضرت سلیمان علیه السلام په نسبت هسی یوه واقعه مذکوره ده. اوس یهودان بهانه کوی چه مونږ ته داسی حکم شوی دی چه له هر چا څخه چه دا معجزه ونه وینئ! په هغه باندی یقین مه کوئ! او دا محض د دروغو بهانی دی ځکه چه دا راز (قسم) حکمونه هیچیری د هغو په کتابونو کښی نه وو او نه نن ورځ پکښی شته. او نه د تولو پیغمبرانو په نسبت دا ادعا ثابته کیدی شی چه هغوی ته هسی کومه معجزه ورکړی شوی وه. هر رسول علیه السلام ته الله تعالیٰ د هغه د وخت او زمان سره سم مناسبی معجزی ورکړی دی او دا لازم نه دی چه هر نبی علیه السلام ته دی هم هغه یوه معجزه ورکړی چه د هغه له ورښوولو څخه د هغه صداقت ثابت شی.

---

قُلْ قَدْ جَآءَكُمْ رُسُلٌ مِّن قَبْلِى بِٱلْبَيِّنَٰتِ وَبِٱلَّذِى قُلْتُمْ فَلِمَ قَتَلْتُمُوهُمْ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿١٨٣﴾

---

ووایه (ای محمده ! دوی ته چه) په تحقیق راغلی وو تاسی ته (ډیر) رسولان پخوا له ما په ښکاره ؤ معجزو او په هغه شی سره چه ویلی دی تاسی (چه قربانی ده بیا) نو ولی ووژل (نیکونو) ستاسی هغوی که یئ تاسی صادقان (چه هم هغه رسول به منئ چه قربانی په اور کښی وسوځوی).

---

**تفسیر:** یعنی که په رښتیا سره پخپلی دی دعویٰ کښی تاسی رښتین یئ؟ او پر دی خاصی معجزی باندی ستاسی ایمان راوړل موقوف دی نو تاسی پخوا له دی د هسی انبیاؤ علیهم السلام په وژلو باندی ولی جرأت وکړ، چه د خپل صداقت لپاره له نورو ښکاره ؤ معجزاتو سره دا معجزه ئی هم درښوولی وه ستاسی د اسلافو دا فعل چه تاسی هم پر هغه باندی راضی یئ او تر نن ورځی پوری پری خوښی کوئ آیا د دی خبری دلیل نه دی چه دا ګردی (تولی) ستاسی پلمی،(بهانی) حیلی، فساد او سرزوری ده چه وایئ هر رسول علیه السلام تر څو هم دا خاصه معجزه را ونه ښئی مونږ ئی نه منو.

---

فَإِن كَذَّبُوكَ فَقَدْ كُذِّبَ رُسُلٌ مِّن قَبْلِكَ جَآءُو بِٱلْبَيِّنَٰتِ وَٱلزُّبُرِ وَٱلْكِتَٰبِ ٱلْمُنِيرِ ﴿١٨٤﴾

پس که نسبت د دروغو وکړی دوی تاته (ای محمده! نو مه خپه کیږی! ځکه) پس په تحقیق نسبت د دروغو کړی شوی ؤ ډیرو رسولانو ته پخوا له تا چه راغلی وو دوی په ښکاره ؤ معجزو او په صحیفو (د شرعی احکامو) او په کتاب روښان (بیانوونکی د حلال او حرام).

**تفسیر**: تاسی ته تسلی او داد درکولی شی چه د دی ملعونانو له دی کړو بخثونو او سر زوریو ځنی ملول او خپه مه کیږئ! او مه د نورو مکذبینو څه پروا کوئ! له تاسی ځنی پخوا نور داسی رسولان هم دروغجن بللی شوی دی چه معجزی او وړوکی صحیفی او لوی کتابونه ئی له ځانه سره راوړی وو، د صادقو انبیاؤ علیهم السلام تکذیب د معاندینو پخوانی عادت دی، او تاسی ته ای محمده! صلی الله علیه وسلم کومه نوی خبره نه ده دروړاندی شوی.

كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ۗ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۖ

هر یو نفس څکونکی (د خوند) د مرگ دی، او بیشکه هم دا خبره ده چه پوره به درکړی شی تاسی ته اجرونه ستاسی په ورځ د قیامت کښی،

**تفسیر**: یعنی د مرگی خوند به هر څوک څکی وروسته له هغه په قیامت کښی هر مصدق او مکذب (تول نیکانو او بدانو) ته د هغه عمل پوره بدل ورکاوه کیږی. له کامل او پوره څخه ممکن دا مطلب وی چه د هغه لږ څه بدل به د قیامت څخه د مخه مثلاً په دنیا یا په قبر کښی به هم ورته ورسیږی.

فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ ۗ وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ ﴿١٨٥﴾

نو هر څوک چه لری کړی شو له اوره (د دوزخ) او داخل کړی شو جنت ته نو په تحقیق مراد ئی وموند (بریالی شو)،(کامیاب) او نه دی ژوندون لږ خسیس مگر پنگه د غولیدلو، (چه نفعه ئی لږه او فنا ئی ژر ده).

**تفسیر**: یعنی د دنیا دا موقتی بهار (سمسور) او دغه عارضی جل ؤ بل، (رونق) او دا بی ثباته دول او سینگار دیر تیرایستونکی شیان دی چه په هغو باندی دیر ناپوهان تیروځی، او

بیخي په دنیوي امورو کښې مشغول او له اخروي چارو څخنې غافلیږي حال دا چه د هر انسان اصلي برې په دې کښې دې چه پخپل دنیوي ژوندانه کښې د خپل آخرت له پاره ګټې او هسې عملونه وکړي چه د الله تعالیٰ د عذاب څخنې سرې وژغوري (وساتي) ، او جنت ته ئې ورسوي.
**تنبیه :** په دې آیت کښې د هغو ځینو متصوفینو تردید هم وشو چه دوی هسې ادعا کوله «مونږ نه جنت غواړو او نه له دوزخه ویرېږو» معلومه شوه چه له دوزخ څخنې ځان ساتل او جنت ته ننوتل اصلي کامیابي او اساسي برې دې. او هیڅ یوه ډیره اعلیٰ کامیابي د جنت له هستوګنې څخنې د باندې د هیچا په برخه نشي کیدې. په حدیث کښې راغلي دي. «وحولهاندندن».
الله تعالیٰ دې له خپله فضله او کرمه، مونږ ته هم دا برې او رحمت را په برخه کړي! (آمین!)

---

لَتُبْلَوُنَّ فِيٓ اَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْٓا اَذًى كَثِيْرًا ۚ وَاِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا فَاِنَّ ذٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ﴿١٨٦﴾

---

قسم دی چه خامخا وبه ازمویل شئ تاسي هرومرو (خامخا) په مالونو خپلو (په زکوة) او (په) ځانونو خپلو (په جهاد) او خامخا به واورئ تاسي بالضرور له هغو کسانو چه ورکړي شوي دي دوی ته کتاب له تاسي څخه پخوا او له هغو کسانو چه شریکان نیسي (په الله پورې) ضرر (بد ویل) ډیر، او که صبر وکړئ (په طاعت او مصیبت او له معصیت) او پرهیزګاري وکړئ تاسي (له بدو کارونو) نو بیشکه دا (صبر او تقویٰ) د همت له کارونو څخنې دي.

---

**تفسیر:** دا خطاب مسلمانانو ته دی چه وروسته له دې به هم په ځان او مال ستاسي ازموینه کیږي! او هر راز (قسم) ځان جارولو (قربانولو) ته به اړ کیږئ! وژل کیدل زخمي کیدل، د قید او بند تکلیفونه پر ځان ګالل (تیرول) ، ناروغیدل، د مالونو زیانیدل. له خپلو خپلوانو څخنې جلا (جدا) کیدل او هم دا راز (قسم) د نورو ربړونو (مصیبتونو) ګالل (تیرول) به درپیښیږي. او هم به د کتابیانو او د مشرکانو له ژبې ډیرې زړه دردوونکې خبرې آورئ! چه د دغو ګردو (ټولو) علاج په صبر او تقویٰ سره کیږي. که تاسي په صبر او استقلال او پرهیزګاري سره د دغو سختیو مقابله وکړئ! نو دا به د ډیر همت او د اولوالعزمۍ کار وي چه د هغه تاکید حق تعالیٰ فرمایلی دی.
**تنبیه :** د «بخاري» له یوه حدیث څخه دا څرګندیږي چه دا آیت د (بدر) له غزا څخه پخوا نازل او د قتال حکم وروسته له دې نه صادر شوی دی. سره له هغه د صبر او تقویٰ د حکم

مشروعیت سره له قتاله هم فی الجمله باقی دی، چه پر هغه باندی تر آخره پوری عمل کیږی.
هو! د صبر او د عفوی او تغلیظ او د تشدید مواقعو پیژندل ضروری دی چه له شرعی نصوصو
څخنی هغه معلوم کیدی شی. دلته ښائی له دی آیت څخنی دا غرض وی چه تاسی د کفارو او د
منافقانو د دی بی ادبی او سپین سترگی څخه له حده زیات مه خپه کیږئ څکه چه لا نوری
ډیری خبری به واورئ! او راز راز (قسم قسم) ربړونه به گالئ(سختی به تیروئ) ! نو د هغوی د
مقابلی له پاره په صبر او استقلال سره تیار اوسئ! او هم د دنیا د ژوندانه په منځ کښی چه
یواځی د خطا کیدلو او تیروتلو یوه لوبه ده له دی خبری څخنی مه غافلیږئ! چه الله تعالیٰ به
ستاسی په ځان او مال او په دواړو سره ستاسی ازموینه کوی ستاسی پوره امتحان به اخلی.

وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ لَتُبَيِّنُنَّهُ
لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُونَهُ فَنَبَذُوهُ وَرَاءَ ظُهُورِهِمْ وَ
اشْتَرَوْا بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا ۖ فَبِئْسَ مَا يَشْتَرُونَ ﴿١٨٧﴾

او (یاد کړه) هغه وخت چه واخیست الله عهد محکم له هغو کسانو څخنی چه
ورکړی شوی دی دوی ته کتاب چه خامخا به بیانوئ تاسی هرومرو (خامخا)
دا (کتاب) خلقو ته او نه به ئی پټوئ تاسی نو وغورځاوه دوی دا(کتاب)
وروسته له شاؤ خپلو او وائی خیست په (عوض د) دی (کتاب) قیمت لږ نو
بد اخیستل د دوی (دغه اخیستل) دی (یا نو څومره بد دی هغه شی چه
دوی ئی پیری (اخلی).)

**تفسیر:** یعنی د اهل الکتاب له علماؤ څخنی عهد اخیستی شوی ؤ هغه احکام او بشارتونه چه په
کتاب الله کښی دی ښائی هغه په خورا (ډیر) ښه ډول (طریقه) نورو خلقو ته ورښیئ! او هیڅ
یوه خبره مه تری پټوئ! او مه اړول راړول پکښی کوئ! او مه ئی معناگانی بدلوئ! مگر دوی
هیڅ زمونږ د دی امرونو پروا ونه کړه او د لږی گټی لامله (له وجی) ئی هغه گرد (تول) عهدونه
او پیمانونه مات او شرعی حکمونه ئی بدل او د الله تعالیٰ په آیتونو کښی ئی لفظی او معنوی
تحریفات وکړل. د هغه شی ښکارول چه ډیر زیات ضروری ؤ یعنی د فخر الاولین خاتم المرسلین
صلی الله علیه وسلم بشارت ئی بیخی پټ کړ. هغومره چه دوی د مال په صرفولو کښی بخل کوی
د علم په ښودلو کښی هم له بخل څخنی کار اخلی د دی بخیلی منشاء هم د مال او جاه او د
دنیوی متاع له مینی څخنی پرته (علاوه) بل شی نه ؤ. دلته ئی ضمناً زمونږ اسلامی علماؤ ته هم
تنبیه فرمایله چه تاسی د دنیا په مینه کښی اخته شوی هسی مه کوئ! (بلکه په هر وخت، هر

ځای او د هر چا په مقابل کښې امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوئ! او هیڅکله او هیڅیری شرعی احکام له خلقو څنی مه پټوئ! ځکه چه رسول صلی الله علیه وسلم هم فرمایلی دی. «هر چا چه پټ کړ علم له اهل د علم څخه قیزه به شی په قیزه د اور سره»).

---

لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَفْرَحُونَ بِمَآ أَتَوا وَّيُحِبُّونَ أَن يُحْمَدُوا بِمَا لَمْ يَفْعَلُوا فَلَا تَحْسَبَنَّهُم بِمَفَازَةٍ مِّنَ الْعَذَابِ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٨٨﴾

---

له سره مه کوه گومان (ای محمده!) په هغو کسانو چه خوشالیږی په هغه کار چه کړی دی دوی (د خلقو له بی لاری کولو) او مینه کوی دوی په دی چه وستایل شی دوی په هغه کار چه نه وی کړی (له تمسکه په حق او دوی گمراهان دی) پس له سره مه گنه ته دوی په ځای د خلاصیدلو له عذاب (بلکه په دوزخ کښی دی) او مقرر دی دوی لره عذاب درد رسوونکی.

---

**تفسیر:** یهودانو غلطی مسئلی ښوولی، رشوتونه (بدی) ئی خوړلی د محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم صفتونه او بشارتونه ئی عمداً پټول او بیا به خویش وو چه مونږ ښه کار کړی دی او هیڅوک زمونږ هسی چالاکی نشی نیولی او امیدوار وو چه خلق هم زمونږ تعریفونه (ستاینی) وکړی او ووائی چه لوی لوی عالمان، دیندار او حق خوښوونکی دی. د بل لوری د منافقانو حال هم د دوی له احوالو سره مشابه (ورته) ؤ. کله چه د «جهاد» موقع راتله دوی پخپلو کورونو کښی پټیدل او پخپل دی پټ کیناستلو باندی هم خوښیدل او یو له بله سره به ئی ویل «وګورئ چه مونږ په ښه چم (چالاکی) سره خپل ځانونه وژغورل(بچ کړل) . کله «چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له «جهاد» سره بیرته راته نو دوی به د خپلو غیر حاضری د دروغو حیلی او پلمی (بهانی) او عذرونه وړاندی کول، او غوښتل به ئی چه پر رسول الله مبارک هم خپل تعریف وکړی. نو دغو گردو (ټولو) ته دا ورښوول شو چه په هسی خبرو سره دوی د دنیا او آخرت له عذابونو څنی ځانونه نشی ژغورلی (بچ کولی) . هسی کسان خو اول په هم دغی دنیا کښی شرمنده او رسوا کیږی او که په کومی پلمی (تدبیر) سره د دی دنیا له رسوائی څخه وژغورل (بچ) شی نو په آخرت کښی خو په هیڅ یو تدبیر سره نشی خلاصیدی. او د دوی دغه بدعمل به له دوی سره مل وی.

**تنبیه :** اگر که په دی آیت کښی د یهودانو او د منافقانو یادونه ده مگر ضمناً مسلمانانو ته هم دا مقصد اوراوه کیږی چه د خرابو کارونو په کولو باندی مه خوښیږئ! او د ښو کارو په کولو سره مه مغروریږئ! او کوم کار چه ښه نه وی د هغه په نسبت د تعریف هیله مه لرئ! بلکه د هغه له کولو څخه وروسته د هغه د مداحی (ستایلو) هوس مه کوئ!

وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١٨٩﴾

او خاص الله لره دی سلطنت د آسمانونو او ځمکی (سره له آسمانونو او ځمکی ملکاً خلقاً او عبیداً) او الله پر هر شي باندی (چه اراده ئی وکړی) ښه قادر دی (نو مسلمانانو ته ثواب او کافرانو ته عذاب ورکوی).

**تفسیر:** کله چه په ځمکه او آسمان کښی د هم هغه الله جل جلاله سلطنت دی نو مجرم به چیری وتښتیدی شي او کله چه پر هر شي باندی قادر دی نو څوک د الله تعالیٰ د نفوذ او اختیار څخه خلاصیدی شي؟.

اِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَاٰيٰتٍ لِّاُولِي الْأَلْبَابِ ﴿١٩٠﴾

بیشکه په پیدا کولو د آسمانونو او ځمکی کښی (سره له هغو شیانو چه په دغو دواړو کښی دی) او په اختلاف د شپی او ورځی کښی (چه تل اوږدیږی، لنډیږی پرله پسی ځی او راځی کله رڼا کله تیاره کله یخ او کله تودیږی) هرومرو (خامخا) دلائل دی (د الله د قدرت) لپاره د خاوندانو د (خالصو) عقلونو.

**تفسیر:** یعنی کله چه هوښیار انسان د آسمان او د ځمکی په پیدایښت او د هغوی په عجیبو او غریبو احوالو او روابطو او د شپی او د ورځی په مضبوط او محکم نظام کښی غور کوی، نو یقین کوی چه دغه مرتبه او منظمه سلسله هرومرو (خامخا) د یو کل مختیار، مطلق قادر او د لوی خالق د حکم او علم او قدرت په لاس کښی ده چه په خپل عظیم قدرت او اختیار سره ئی د هر وړوکی او لوی مخلوق حد بندی کړی ده او هیڅ یو شي ته د دی خبری مجال نشته چه د خپل حد او د عمل له دائری ځنی د باندی پښه کیږدی. که د دی عظیم الشان مشین یوه پرزه، یا د دی لوی کارخانی یو مزدور هم د هغه علی الاطلاق مالک له قدرت، واک (قبضه) او اختیار ځنی د باندی وی نو د تول عالم دا مکمل او محکم نظام به له سره تینګ نه پاتی کیدی. (لنده دا چه د دی دنیا په ګردو (تولو) موجوداتو کښی د هغه الله جل جلاله په وجود څو څو قسمه دلائل دی او په دی چه الله تعالیٰ بلاشک او شبهه صانع حکیم، علیم، احد، صمد، قدیم، رحیم، قادر او قاهر دی. «جل وعلیٰ شانه»).

الَّذِيْنَ يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ قِيٰمًا وَّ قُعُوْدًا وَّعَلٰى جُنُوْبِهِمْ

دغه (عاقلان) هغه کسان دی چه یادوی الله په ولاړی او په ناستی او په اړخونو خپلو (چه پراته وی).

**تفسیر:** یعنی په هیڅ حال کښی له الله تعالیٰ څخنی نه غافلیږی او د هغه یاد تل تر تله د هغوی په زړه او ژبه جاری وی. لکه چه په حدیث کښی د رسول الله مبارک په نسبت عائشی صدیقی رضی الله عنها فرمایلی دی . «**کان یذکر الله علی کل احیانه**» چه په ولاړی لمونځ نشی کولی په ناستی سره دی لمونځ اداء کړی! او که په ناستی لمونځ نشی کولی، نو په ملاستی دی لمونځ اداء کړی! په ځینو روایتونو کښی راغلی دی. «په هغه شپه کښی چه دغه آیت نازل شو رسول الله صلی الله علیه وسلم په ولاړه، ناسته، ملاسته هر حالت کښی د الله تعالیٰ په یاد کښی داسی مشغول ؤ چه ډیر ژړل به ئی هم.»

وَيَتَفَكَّرُوْنَ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا ۚ سُبْحٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿١٩١﴾

او فکر کوی دوی په پیدایښت د آسمانونو او ځمکی (او د مافیهما) کښی، (نو وائی) ای ربه زمونږه! نه دی پیدا کړی تا دا مخلوقات عبث (بی حکمته) نسبت د پاکی دی تاته (له ګردو (تولو) عیبونو) نو وساته مونږ له عذابه د اور (د دوزخ نه) !.

**تفسیر:** یعنی له ذکره او فکره وروسته وائی یا الٰهی! دا عظیم الشانه کارخانه دی بی کاره نه ده پیدا کړی چه هیڅ یو مقصد ونه لری. دا د عجیبو او غریبو حکیمانه انتظاماتو سلسله به په یقین سره کومی عظیمی او جلیلی نتیجی ته ورسی. ګواکی له دی ځایه د دوی ذهنونه د آخرت لوری ته منتقل او متوجه کیږی چه فی الحقیقت د دنیا د موجوده ژوندن آخری نتیجه ده ځکه چه وروسته له دی نه د دوزخ له عذاب څخنی د محفوظ پاتی کیدلو دعا هم شوی ده . او په مینځ کښی ئی د الله تعالیٰ د تسبیح او تنزیه بیان وشو او اشاره ئی وفرمایله چه هر هغه ناپوه او احمق چه د قدرت د هسی صافو او صریحو دلائلو او آثارو له لیدلو څخه وروسته بیا هم الله جل جلاله نه پیژنی، یا د الله تعالیٰ شان وړوکی ګڼی یا د عالم دا کارخانه چتی (بیکاره) ، عبث او لوبی بولی نو د الله تعالیٰ دربار له دی ګردو (تولو) هزلیاتو او خرافاتو او چتی (فضول)

خبرو ځنې پاک او صاف دی. له دی آیت ځنې دا راښکاره شوه چه په آسمان او ځمکه او نورو قدرتی مصنوعاتو کښې غور او فکر کول هلته محمود کیدی شي چه نتیجه ئې د پاک الله یادول او د آخرت په لوری توجه وی پاتی شول هغه ماده پرستان چه د دی مصنوعاتو د تارونو په حلقو کښې نښتي دی او د لوی صانع تر صحیح معرفت پوری نشی رسیدی. اګر که دنیا هغه لوی محقق او د ساینس ښه عالم وبولی، مګر د پاک قرآن په ژبه هغه له «اولوالالباب» ځنې نه دی بلکه په اوله درجه جاهل او احمق دی.

## رَبَّنَآ اِنَّكَ مَنْ تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ اَخْزَيْتَهٗ ط

ای ربه زمونږه! بیشکه ته هر څوک چه داخل کړی اور (دوزخ) ته نو په تحقیق رسوا کړ تا هغه (ای ربه!)،

**تفسیر:** څومره چه په دوزخ کښې څوک پاتی شي، هومره خوار او رسوا ګڼه شي. نو د دی قاعدی سره سم د کفارو له پاره دائمی رسوائی ده. په هغو آیتونو کښې چه له عامو مؤمنانو څخه د خزی (رسوائی) نفی کړی شوی ده هلته دی د هغی ځنې هم داسی وفهمیږی. (چه مسلمان ته دائمی رسوائی نشته).

## وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ ﴿۱۹۲﴾

او نشته ظالمانو (کافرانو) ته هیڅ مددګاران (د عذاب په دفعه کښې).

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ چه د دوزخ اچولو ته د چا په نسبت اراده وفرمائی بل څوک د هغه حمایت نشی کولی او نه به د شفاعت اجازه ورکره شي. هو! د هغو له پاره به چه په اول یا په آخر کښې ئې پریښوول یا معافول مقصود وی (لکه ګناهګار مؤمنان) د هغوی له پاره به شفعاؤ ته اجازه ورکړی شي او وروسته له شفاعته بښل کیږی، او دا مطلب له دی آیت نه مخالف نه دی بلکه له نورو آیتونو او صحیحو احادیثو څخه ثابت دی.

## رَبَّنَآ اِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا يُّنَادِيْ لِلْاِيْمَانِ اَنْ اٰمِنُوْا بِرَبِّكُمْ فَاٰمَنَّا ق

ای ربه زمونږه! بیشکه مونږ واوریده (غږ) د یوه آواز کوونکی (چه قرآن یا محمد) دی بلل ئې (خلق) ایمان ته (داسی) چه ایمان راوړئ! په رب خپل نو ایمان راؤړ مونږ (په رب خپل)

**تفسیر:** یعنی نبی کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم چه په ډیر جګ (وچت) آواز سره ئی ګردی (تولی) دنیا ته غږ وکړ. یا لوی قرآن چه د هغه غږ هر کور ته رسیدلی دی. پرومبی د عقلی ایمان ذکر ؤ په «فاٰمنا» کښی سمعی ایمان دی چه په هغه کښی ایمان بالرسول او ایمان بالقرآن هم درج دی.

رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّاٰتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ الْأَبْرَارِ ﴿١٩٣﴾

ای ربه زمونږه! نو مغفرت وکړه مونږ ته ګناهونه (لوی) زمونږ! او لری کړه له مونږه، ګناهونه (واړه) زمونږ! او وفات کړه مونږ (په داسی حال کښی چه داخل اوسو) سره له ډلی د نیکانو.

**تفسیر:** یعنی زمونږ لویه ګناه راعفوه کړه! او په وړوکو خرابیو مو پرده واچوه! او کله چه مونږ بیا ژوندی کوی، د ښو بندګانو په ډله کښی مو شامل کړه!

رَبَّنَا وَاٰتِنَا مَا وَعَدْتَّنَا عَلٰى رُسُلِكَ وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ط

ای ربه زمونږه او راکړه مونږ لره هغه چه وعده دی کړی ده تا له مونږ سره په (ژبو د) رسولانو خپلو او مه رسوا کوه مونږ په ورځی د قیامت کښی،

**تفسیر:** یعنی کومی وعدی چه تا د رسولانو په ژبه پر هغو باندی د ایمان او تصدیق څخه وروسته کړی دی په هغو سره مونږ خوښ او مستفید کړه! مثلاً په دنیا کښی مونږ مسلمانان بالاخره پر اعداؤ الله باندی غالب او منصور وګرځوه! او په آخرت کښی مو په جنت رضوان سره مفخر او سرلوړی کړه! او د قیامت په ورځ مو د دوی په لاړښونه او برکت بیخی له ادنٰی رسوائی او لوی بی عزتی څخه هم وساته!

إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيعَادَ ﴿١٩٤﴾

بیشکه ته (ای ربه) نه کوی مخالفت له وعدی (خپلی) نه.

**تفسیر:** یعنی ای ربه ستا په لوی دربار کښی د وعده خلافی هیڅ یو احتمال نشته او په مونږ کښی دا احتمال شته نه چه کومه داسی غلطی له مونږ څنی څرګنده شی چه د هغی له سببه ستا

له وعدو ځنې مستفید نه شو. نو ځکه دعا کوو چه مونږ ته پر هغو اعمالو د استقامت هسې یو توفیق راکړه! چه پر هغه ستا له ګردو (تولو) وعدو څخه فائده واخلو!

فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ أَنِّي لَا أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ ۖ بَعْضُكُم مِّن بَعْضٍ ۖ

پس قبولي کړی دوی لره (دا دعاوی) رب د دوی (په دی شان چه) بیشکه زه نه ضائع کوم عمل د هیڅ عمل کوونکی له تاسی نه نارینه وی (دا عامل) یا ښځه وی (ځکه چه) ځینی ستاسی دی له ځینو نورو (او ماته په مکافات کښی ګرد (تول) سره یو یئ)

**تفسیر:** یعنی نارینه وی که ښځه، زمونږ په دربار کښی د هیڅا خواری او تکلیف نه ضائع کیږی. هر څوک چه هر کار وکړی د هغه ثمره به مومی. دلته عمل شرط دی. د نیک عمل په وسیله یوه ښځه هم د خپل استعداده سره سم د آخرت هغه لوئی درجی حاصلولی شی چه نارینه ئی حاصلولی شی. کله چه تاسی نارینه او ښځی د انسانی یوی نوعی افراد یئ او له یوه آدم علیه السلام څخه پیدا شوی یئ! او په اسلامی رسی کښی سره تړلی یئ او یو اجتماعی ژوندون لرئ او د معاشرت په چارو کښی ګرد (تول) سره شریکان او مله یئ! نو عملونه او د هغو ثمرات مو هم یو شی وګنئ! په روایتونو کښی راغلی دی چه رسول صلی الله علیه وسلم ته ام سلمة رضی الله تعالیٰ عنه عرض وکړ . «یا رسول الله صلی الله علیه وسلم په قرآن کښی هیڅیری زمونږ د ښځو د هجرت او نورو حسنه اعمالو په نسبت کوم خاص ذکر نه دی راغلی.» نو د هغی ځواب په دی آیت سره ورکړ شو.

فَالَّذِينَ هَاجَرُوا وَأُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِمْ وَأُوذُوا فِي سَبِيلِي وَقَاتَلُوا وَقُتِلُوا لَأُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَلَأُدْخِلَنَّهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۖ

او هغه کسان چه هجرت کړی دی دوی (له پاره د دین) او ایستلی شوی دی دوی له کورونو خپلو (د الله په لاره کښی) او ضرر رسولی شوی دی دوی ته

په لاره زما کښې او جنګونه ئې کړی دی (له کفارو سره) او وژل شوی دی (په غزا کښې) نو خامخا به لری کړم هرومرو (خامخا) له دوی نه ګناهونه د دوی او خامخا به داخل کړم هرومرو (خامخا) دوی په جنتونو کښې چه بهیږی له لاندی د (مانیو او ونو د) هغو ویالی،

**تفسیر:** یعنی کله چه د کوم عمل کوونکی هیڅ یو وړوکی او لوی عمل نه ضائع کیږی نو بیا د الله تعالیٰ خاصو هغو بندګانو ته زیاته خوښی او اجر په برخه کیږی چه د کفر او عصیان په پریښودلو سر بیره وطن او خپلوان ئې هم پریښی او له (دارالکفر) ځنی وتلی او له خپلو اقاربو او دوستانو ځنی جلا (جدا) شوی له اهل او عیال، مال او منال ځنی ئې سترګی پټی کړی، او د (دار الاسلام) په لوری رهی (روان) شوی دی. ځکه چه کفار پر دوی دومره ظلم تیری او تجاوز وکړ. چه پخپلو کورونو کښې د دوی پاتې کیدل محال او مشکل شول. د وطن له پریښولو او د کور او کهول او کورنیو له جداوالی سره، بیا هم د دښمنانو له ضرره او ایذاء هوسا (په آرام) نشول او راز راز (قسم قسم) ربړونه (تکلیفونه) ئې د کفارو له لاسونو څخه ګالل(تیرول)، او دا ګرد (تول) د دی له امله (وجی) ؤ، چه هغوی د الله تعالیٰ نوم یاداوه او د توحید کلمه ئې ویله لکه چه د «الممتحنة» په (۱) آیت (۱) رکوع کښې راغلی دی. ﴿يُخْرِجُونَ الرَّسُولَ وَإِيَّاكُمْ أَنْ تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ رَبِّكُمْ﴾ او د البروج په (۸) آیت کښې لولو. ﴿وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ إِلَّا أَنْ يُؤْمِنُوا بِاللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ﴾ په پای (اخر) کښې دا بندګان چه زما په لاره کښې وجنګیدل او په غزا کښې ئې خپل ځانونه جار کړل، د دی بندګانو ګرد (تول) تقصیرات معاف کړی شوی دی، او جنت د دوی په انتظار کښې دی.

ثَوَابًا مِّنْ عِنْدِ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ عِنْدَهُ حُسْنُ الثَّوَابِ ﴿١٩٥﴾

(جزا د نیکیو به ورکړو مونږ دوی ته) په جزا ورکولو (نیکو) سره له نزده د الله او الله په نزد د ده دی ښه ثواب (نیکه جزا).

**تفسیر:** یعنی ښه بدل خو له الله تعالیٰ سره دی او بل په هیڅ ځای کښې نه پیدا کیږی یا ئې دا مطلب دی چه له دی بدل ځینی ښه بدل له الله تعالیٰ سره دی چه هغه د الله تعالیٰ د لوی ذات لقاء او رضاء ده (ای الله! خپله لقاء دی زمونږ او د ګردو (تولو) مؤمنانو په برخه کړه!)

لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي الْبِلَادِ ﴿١٩٦﴾
مَتَاعٌ قَلِيلٌ ثُمَّ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ ۚ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿١٩٧﴾

نه دی تیرباسی له سره تا (ای سامعه!) تلل راتلل د هغو کسانو چه کافران شوی دی (او تصرف د دوی) په ښارونو کښی (دا) فائده ده لږه پس (له مرګه) ځای د دوی دوزخ دی، او بد ځای د هستوګنی دی (دا دوزخ).

**تفسیر:** یعنی کفار چه دی خوا او هغه خوا د تجارت او نورو کارونو له پاره په ډیر تکبر او غرور سره په ګټی او فائدی پسی ګرځی مسلمانانو ته نه ښائی چه پر دوی باندی تیروځی. ځکه چه دا د هغوی د څو ورځو بهار دی. که سری ته د څو ورځو دپاره ښه ډوډی او مکلف خواړه ورکړل شی او بیا ئی په دار وځړوی (وخیژوی) یا ئی په دایمی حبس محکوم کړی نو آیا دی ته عیش ویلی شی؟ عیش هغه دی چه سری د څو ورځو له مخی لږ ډیر زحمت او تکلیف په ځان وګالی (تیر کړی) او د خپل راحت او هوسائی (خوشالی) دائمی اسباب په اعلیٰ درجه سره مهیا کړی.

لٰكِنِ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا

لیکن هغه کسان چه ویریږی دوی له ربه خپله شته دوی لره جنتونه چه بهیږی له لاندی د (ونو او مانیو د) هغو ویالی تل به وی دوی په هغو (جنتونو) کښی.

**تفسیر:** اوس تاسی د هغه عیش او راحت د څو ورځنی بهار مقابله له دی ابدی هوسائی (خوشالی) او کامیابی سره وکړئ! چه هغه بهتر دی؟ که دا؟

نُزُلًا مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ

په دی حال کښی چه (دغه جنتونه ځای د) میلمستیا یو پیشکشی) ده له (جانبه د) الله،

**تفسیر:** له دی کبله (وجی) ئی ورته په میلمستیا سره تعبیر وکړ چه له میلمه سره د خوړلو چښلو فکر نه وی او په عزت او آرامی سره ناست وی. او په عین هوسائی (خوشالی) او آرامی کښی هر شی تیار ورسیږی. (والله اعلم)

وَمَا عِندَ اللَّهِ خَيْرٌ لِّلْأَبْرَارِ ﴿١٩٨﴾ وَإِنَّ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَمَن
يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْكُمْ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْهِمْ خَاشِعِينَ لِلَّهِ
لَا يَشْتَرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ ثَمَنًا قَلِيلًا ۗ أُولَٰئِكَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ

او هغه (باقي شي) چه په نزد د الله دی خير (ډير غوره) دی له پاره د نيکانو. او بيشکه ځينې له اهل د کتاب خامخا هغه څوک دی چه ايمان لری پر الله او پر هغه (قرآن) چه نازل کړی شوی دی تاسی ته (ای مسلمانانو) او پر هغه تورات او انجيل چه نازل کړی شوی دی دوی ته حال دا چه ويريدونکی (متواضع) دی الله لره نه پيری (نه اخلی دوی) په آيتونو د الله قيمت لږ، هم دغه کسان (مقرر) دی دوی لره اجر (ثواب) د دوی په نزد د رب د دوی،

**تفسير:** پورته د عامو متقيانو د حال بيان وشو اوس په کتابيانو کښې چه کوم متقيان دی د هغو ذکر په خصوصيت سره فرمائی يعنی هغو کتابيانو چه پر الله تعالیٰ باندی ئی په ښه دول (طريقه) سره ايمان راوړی او قرآن عظيم ئی منلی دی او څرنګه چه دا عظيم الشان قرآن بالذات د تورات او انجيل تصديق کوونکی دی نو دوی ګواکی هغه هم ومنل. مګر نه په دی دول (طريقه) چه دنيا خوښوونکی (احبار) ئی منی، چه د لږ دنيوی ګټی له پاره د الله تعالیٰ آيتونه پټوی يا ئی بدلوی، بلکه د الله تعالیٰ په مخ کښې په ډيره عاجزی او اخلاص سره غاړه ږدی او په هم هغه دول (طريقه) چه د الله تعالیٰ له درباره کتابونه رانازل شوی دی، هغه ئی په هم هغه اصلی رنګ سره ومنل، نه ئی بشارتونه پټ، او نه ئی احکام بدل کړل، هسی پاک او حق خوښوونکو کتابيانو ته د الله تعالیٰ له جانبه مخصوص اجر ورکاوه شی. لکه چه د قرآن کريم او د احاديثو له تصريحاتو ځنی دا خبره ثابته شوی ده چه داسی کتابيانو ته به مضاعف (دوه چنده) اجر ورکاوه شی.

إِنَّ اللَّهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ ﴿١٩٩﴾

بيشکه چه الله ډير ژر دی حساب (د ده يعنی ډير ژر حساب آخلی)

**تفسير:** يعنی د حساب ورځ دومره لری نه ده، بلکه ډير ژر راتلونکی ده او کله چه حساب

شروع شي نو د گردی (تولی) دنیا د یوی یوی ذری او پیسی حساب به هم په دیر تلوار او جلتی سره خلاصیږی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱصْبِرُوا۟ وَصَابِرُوا۟ وَرَابِطُوا۟ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٢٠٠﴾

**ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (ای مؤمنانو!) صبر کوئ (په طاعت، مصیبت او له معصیته) او تینگ اوسئ! په صبر (د کفارو په مقابل کښی) او محکم اوسئ! (په اسلامی سرحداتو کښی)! او وویریږئ! له الله له پاره د دی چه په مراد ورسیږئ! (بریالی شئ! او له دوزخه نجات وموموئ!)**

**تفسیر:** الله تعالیٰ د دغه سورت په پای (اخر) کښی مونږ مسلمانانو ته یو جامع او مانع نصیحت وکړ چه په واقع کښی د دی گرد (تول) سورت حاصل دی یعنی ای مومنانو که فتح او بری، او د دنیا او آخرت په مراد رسیدل غواړئ! نو سره د ربړ گاللو (سختی تیرولو) په طاعت کښی تینگ اوسئ! او له معصیت څخه ځان وساتئ! او د دښمنانو په مقابله کښی خپله مضبوطی، ثابت قدمی او میرانه (بهادری) ښکاره کړئ! او د اسلام د حدودو په حفاظت کښی تل مشغول او لگیا اوسئ! له هر ځایه چه د دښمن د تعرض (یرغل) اندیښنه وی هلته د اوسپنی د دیوال په شان خپل تترونه (سینی) سپر کړئ! او پښی مو تینگی کړئ!.
﴿وَأَعِدُّوا۟ لَهُم مَّا ٱسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ ٱلْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِۦ عَدُوَّ ٱللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ﴾ (۱۰ جزء د الانفال ٦٠ آیت ۸ رکوع) او په هر وخت او هر کار کښی له الله جلت کلمته څخه وویریږئ! که تاسی داسی وکړل نو وبوهیږئ چه په خپل مراد ورسیدئ! «**اللهم اجعلنا مفلحين و فائزين بفضلك ورحمتك في الدنيا والاخرة آمين!**» په حدیث کښی راغلی دی چه نبی کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم کله چه د تهجد له پاره پاڅیده نو د آسمان په لوری به ئی کتل او دا لس آیتونه به ئی له «ان فی خلق السمٰوٰت والارض» څخه د (آل عمران) تر ختم پوری تلاوت کول.
**تمت سورة «آل عمران» بفضل الله المنان نسئله الرحمة و الغفران وخلود الجنة والرضوان و نصلی و نسلم الف الف مرة علیٰ رسوله و حبيبه سيد الانس والجان**

سورة «النسآء» مدنية وهی مائة وست و سبعون آية و اربع و عشرون رکوعا رقم تلاوتها (٤) تسلسلها حسب النزول (٩٢) نزلت بعد «الممتحنة»

د «النسآء» سورت مدنی دی، (١٧٦) آیتونه، څلیرویشت رکوع لری په تلاوت کښی (٤) او په نزول کښی (٩٢) سورت دی، وروسته د «الممتحنة» له سورت څخه نازل شوی دی.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی.

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمُ الَّذِىْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيْرًا وَّنِسَآءً ۚ

ای خلقو! (تل) وویریږئ له ربه خپله! هغه (رب) چه پیدا ئی کړئ تاسی له نفسه یوه نه (چه آدم علیه السلام دی) او پیدا ئی کړه له دی (نفسه) جوړه د ده (چه حواء ده) او خپاره (خواره) ئی کړل له دی دواړو څخه سړی ډیر او ښځی (ډیری)،

**تفسیر:** ړومبی ئی د حضرت آدم علیه السلام له کینی پښتی څخنی بی بی حواء پیدا کړه بیا ئی له دوی دواړو څخنی ګرد (تول) نارینه او ښځی پیدا او په ځمکه کښی ئی خپاره (خواره) کړل. نو په حقیقت کښی الله تعالیٰ ګرد (تول) انسانان له یوه نفس او یوه سړی څخنی پیدا کړی دی مطلب ئی دا دی کله چه له عدم څخنی ستاسی د ګردو(تولو) پیداکونکی او بیا ستاسی باقی او قائم ساتونکی هم هغه یو ذات دی نو ښائی چه تاسی له هغه څخه وویریږئ! او د هغه د امر منل یو ډیر ضروری کار وګڼئ! له دی څخنی دوه مضمونو ته اشاره وشوه.

(اول) : دا چه الله تبارک و تعالیٰ ستاسی د تولو خالق او موجد دی.

(دوهم): دا چه د ګردو (تولو) انسانانو د وجود سبب هم هغه یو نفس دی چه له هغه څخنی الله تعالیٰ نور ګرد (تول) انسانان پیدا کړل. یعنی ابو البشر آدم علیه السلام چه له دی څخنی دا راڅرګنده شوه چه زمونږ اصلی تعلق خو له الله تعالیٰ سره دی ځکه چه په تامه علت او د هغه په معلول کښی چه څومره تعلق او قرب او احتیاج او علاقه وی هغومره په بل هیڅ یو شی کښی ممکن نه دی. وروسته له هغه، هغه علاقه او تعلق او قرب دی چه د انسانی افرادو په منځ کښی موندل کیږی ځکه دلته د وجود سبب او «مخلوق منه» بیخی یو شی دی له دی څخه معلومه شوه چه ړومبی پر مونږ باندی د الله تعالیٰ اطاعت لازم دی چه زمونږ خالق دی. وروسته له هغه په

ګردو (ټولو) مخلوقاتو کښې خاص د خپلې بنې نوعې رعايت او له هغوی سره ښه سلوک کول پر موږ باندې ضروری دی، ځکه چه الله تعالیٰ موږ ګردو (ټولو) لره «مخلوق منه» او د وجود سبب يو شی مقرر کړ نو هغه قرب او هغه اتحاد چه د انسانی افرادو په منځ کښې يو تر بله موجود دی، هغه په بل کوم شی کښې نه دی موجود او نه تری حاصليږی، نو ځکه شرعاً او عقلاً د بنی آدمانو پخپلو منځونو کښې ښه سلوک، خورا (ډير) ښه او ډير ضروری کار دی او بد سلوک له انسانانو سره دومره مذموم دی چه نورو سره نه دی، چه د هغه تفصيل په نصوصو او شرعی احکامو کښې په تاکيد او تکرار پرله پسې موجود دی. لکه چه شيخ مصلح الدين هم دا مطلب داسی اداء کړی دی

انسانان دی لکه غړی يو د بل په فطرت کښې لکه پانی دی د ګل

چه مو ژوبل شی يو غړی ياپه درد شی ورسره به مو نور غړی هم په درد شی

نو په دی موقع کښې حق تعالیٰ خپل خالقيت ظاهر او د خپل اطاعت امر ئې صادر کړ او د بنی آدم اصلی اتحاد ئې راخرګند کړ او په دی لوری ئې اشاره وکړه چه ټول سره يو ځای شیٔ! لکه چه د دی آيت په راتلونکی برخه کښې دغه اشاره ظاهره کړی شوی ده.

---

وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ

---

او ويريږئ له الله هغه (الله) چه سؤال کوئ تاسی يو تر بله په (نامه د) ده سره او (وويريږئ له پريکولو) د خپلوی څخه،

---

**تفسير :** سره بيره پر دی چه الله جل جلاله ستاسی خالق او رب يعنی موجد او بقاء درکوونکی دی د ده د اطاعت د وجوب يوه وجه دا ده چه تاسی دده په وسيله ګرځولو په خپلو منځونو کښې خپل حقوق او فوائد غواړئ! او يو بل ته د هغه په نامه قسمونه ورکوئ! او پر ده خپل اطمينان حاصلوئ!، يعنی پخپلو معاملاتو او عارضی حاجاتو کښې هم په همغه سره متوسل کيږئ! مطلب دا چه په وجود او بقاء پوری دا احتياج منحصر نه دی بلکه پر ګردو حاجاتو او چارو کښې هم تاسی هغه ته محتاج يئ!، نو ځکه د الله تعالی د اطاعت ضرورت لا هم محقق شو. وروسته له دی دا حکم دی چه له قرابته هم وويريږئ! يعنی د اقاربو حقوق په ښه ډول سره اداء کوئ! او د خپلوی له پريکولو او بدسلوکی ځنی ځانونه وژغورئ! (وساتئ). د بنی نوع يعنی له انسانی ټولو افرادو سره په عمومی ډول سره ښه سلوک خو ددی آيت په ړومبنی برخه کښې تير شوی دی. څرنګه چه د قرابت له خاوندانو سره نژديوالی او مخصوص اتحاد لا زيات وی، نو ځکه د هغوی له بدسلوکی څخه اوس په خاص ډول (طريقه) سره ويراوه شی. ولی چه د هغوی حقوق د نورو انسانی افرادو له حقوقو څخه زيات دی، لکه چه په حديث قدسی کښې راغلی دی. قال الله تبارک و تعالیٰ «**انا الله و انا الرحمٰن خلقت الرحم و شققت لها**

**من اسمي فمن وصلها وصلته و من قطعها قطعته»** او په حديث د **«خلق الله الخلق فلما فرغ منه قامت الرحم فاخذت بحقوِ الرحمن فقال له مه قالت هذا مقام العائذ بک من القطيعة قال الاترضين ان اصل من وصلک واقطع من قطعک قالت بلى يا رب قال فذاک»** او په حديث د **«ان الرحم شجنة من الرحمن فقال الله من وصلک وصلته ومن قطعک قطعته»** او په حديث د **«الرحم معلقة بالعرش تقول من وصلني وصله الله ومن قطعني قطعه الله»** کښې د هغه تاکيد شوی او په فائده ئې شاهد دی او د صله رحمي اختصاص او د هغې علائقو ته اشاره کوی. نو اوس دا نتيجه تری ووتله چه د وجود منشأ او د خلقت د جوهر د اتحاد لامله (له وجې)، په ګردو (ټولو) بنيادمانو باندی ښه سلوک او د حقوقو رعايت ضروری دی. وروسته له هغه په کومه موقع کښې که د کوم خصوصيت له سببه په اتحاد کښې زياتوالی پيدا شی لکه په اقاربو کښې يا که په کومه موقع کښې د احتياج شدت وليده شی لکه په يتيمانو او مساکينو او نورو کښې نو هم هغومره د حقوقو په مراعات کښې هم زياتوالی پيدا کيږی علاوه پر دی کله چه د الله تعالیٰ حکم هم په صاف دول (طريقه) سره راغی چه «د ارحامو (د خپلوی) د حقوقو رعايت او حفاظت وکړئ!» د هم دی عمومی تعلق او نورو خصوصی تعلقاتو په نسبت مذکور دی. ګواکی هغه مفصل احکام د دی مجمل او کلی امر چه دلته ذکر شو تفصيل او شرحه ده.

---

إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا ①

---

بيشکه الله دی پر تاسی ساتونکی (نو هيچيری) او هيڅکله تری غافل نه شئ چه جزا درکوی).

---

**تفسير:** يعنی الله جل جلاله ستاسی له ګردو (ټولو) اعمالو، افعالو او احوالو څخه واقف دی. که د هغه د حکم متابعت وکړئ نو ثواب به ومومئ! که نه د عذاب مستحق کيږئ! او ستاسی د ارحامو او خپلوی په تعلقاتو او مراتبو، او د هر يوه په مناسبو حقوقو باندی هم ښه پوهيږی، نو څکه د هغه په نسبت هر هغه حکم چه الله جل جلاله درکړی، هغه حق وګڼئ! او عمل پری وکړئ!

---

وَءَاتُوا الْيَتَٰمَىٰٓ أَمْوَٰلَهُمْ وَلَا تَتَبَدَّلُوا الْخَبِيثَ بِالطَّيِّبِ وَلَا تَأْكُلُوٓا أَمْوَٰلَهُمْ إِلَىٰٓ أَمْوَٰلِكُمْ إِنَّهُۥ كَانَ حُوبًا كَبِيرًا ②

---

او ورکړئ (ای د يتيمانو اولياؤ!) يتيمانو ته مالونه د دوی (پس له رشده) او

بدل مه اخلئ تاسی خبیث (بد، حرام مال) په طیب (ښه، حلال مال!) او مه خورئ تاسی مالونه د دوی (یعنی د یتیمانو ګډ) له مالونو خپلو سره (ای ولیانو! او وصیانو!) بیشکه دا (د یتیمانو د مال خوړل) ده ګناه لویه.

**تفسیر:** د یتیمانو اولیاؤ او سرپرستانو ته حکم دی، هر کله چه هغوی بالغ شی، نو د هغوی مال دی پری وسپاری!، او د «تولیت» او سرپرستی په وخت کښی دی د یتیمانو یو ښه شی نه اخلی!، او نه دی په معاوضه کښی خراب او ښکته شی د هغه په مال کښی شامل کړی! او نه دی د هغوی مال له خپل مال سره ګډ کړی!، چه وئی خوری. مثلاً «ولی» لره اجازه شته چه د یتیم خواړه له خپلو خوړو سره مشترک او شامل کړی مګر دا خبره ضروری ده چه د یتیم مال ته دی څه نقصان ونه رسوی! او داسی دی ونه شی چه د شرکت په پلمه (بهانه) د یتیم مال وخوری او ورڅخه استفاده وکړی. ځکه چه د یتیم د مال خوړل لویه ګناه ده. ښائی له دی امله (وجی) به د یتیم حکم په هغو احکامو کښی چه په ارحامو پوری تعلق لری مخکښی ذکر شوی وی چه یتیم د خپلی بیکسی، بی سرو سامانی، مجبوری، بیچاره ګی له جهته په تبدیل او شرکت سره د یتیم د مال خوړل ممنوع ګرځول شوی او په راتلونکو متعددو آیتو کښی هم د یتیمانو په نسبت څو احکام ارشاد شوی دی، چه له هغو ځنی د دی د ګردو (تولو) یتیمانو په حق کښی دی. هو! هغه یتیم چه قرابت او خپلوی لری، د ده په باره کښی زیات تاکید شوی دی. او هم دا شان نزول د دی آیتونو د ربط سبب دی. چه له عرف او عادت سره هم موافق دی، ځکه چه د یتیمانو «اولیاء» غالباً هغه کسان وی چه د هغوی سره زیات خپلوی لری.

وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَىٰ فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَىٰ وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ

او که ووېرېږئ، تاسی چه به ونه کړئ شئ عدل انصاف په (حق د) یتیمانو کښی نو په نکاح سره واخلئ تاسی (نوری) هغی ښځی چه خوښی (حلالی) وی تاسو ته له ښځو دوه دوه او دری دری او څلور څلور،

**تفسیر :** په صحیحو احادیثو کښی راغلی دی. هغی یتیمی جینکئی چه د خپلو اولیاؤ تر تربیت لاندی به وی او د هغی یتیمی او د هغی د ولی په مال او ځمکه او باغ کښی به د خپلوی لامله (له وجی) شرکت ؤ. نو دلته به دوه صورت وراندی کیده.
(۱) : کله چی به داسی پیښیده چه «ولی» ته به د دی جمال او مال دواړه مرغوب ؤ او د دی ولی به د لږ څه مهربانی په بدل کښی له دی سره خپله نکاح تړله ځکه چه د دی جینی بل څوک

نه درلود (لرلو) چه د دی د حق غوښتنه ئی کړی وی.

(٢) : کله به داسی کیده چه د دی یتیمی جینی جمال به مرغوب نه ؤ مگر «ولی» د دی خیال له امله (وجی) که زه د دی نکاح له بل چا سره وتړم نو د دی جینی مال به زما له لاسه ووځی او زما په مال کښی به بل څوک راسره شریک شی نو د دی مصلحت له مخی به ئی په یوه دول (طریقه) له دی سره خپله نکاح ترله، خو له دی منکوحی سره به ئی په زړه کښی څه مینه او رغبت نه درلود (لرلو)، نو دا آیت نازل او اولیاؤ ته ارشاد وشو. «که تاسی له دی خبری څنی وویرېږئ، چه د یتیمو نجونو په نسبت انصاف نشئ کولئ! او د دوی په مهر او حسن معاشرت کښی له تاسی څنی څه تقصیر پیښیږی نو تاسی له هغوی سره نکاح مه ترئ! بلکه له نورو مرغوبه ؤ ښځو څنی له یوی څخه نیولی تر څلورو پوری تاسی ته اجازه شته چه د شریعت له قاعدی سره ئی سم نکاح کړئ!، چه له دی جهته یتیمو جونو ته څه نقصان ونه رسیږی، ځکه تاسی چه د هغوی د حقوقو حامی یئ! نو نه ښائی چه د حمایت لامله (له وجی) په کومی خرابی او گناه کښی ولویږئ!.»

**تنبیه:** د آزاد مسلمان له پاره له څلورو ښځو او د مریئی له پاره له دوو ښځو څنی زیاتی په نکاح اخیستل جائز نه دی. او په احادیثو کښی هم ددی په نسبت تصریحات موجود او دینی آئمه ؤ هم پر دی باندی اجماع کړی ده. او گرد (تول) امت ته هم دا حکم دی یواځی د رسول الله صلی علیه وسلم خصوصیت او امتیاز ؤ چه له دی څنی د زیاتو اجازه هم دوی ته وه.

**«فائده»** : د یتیمو جونو د نکاح دریم صورت هم په حدیث کښی راغلی دی.

هغه یتیمه جینی چه د دی د مال او جمال د دواړو په نسبت د دی «ولی» بی رغبته وی او د دغه عدم رغبت لامله (له وجی) د دی ولی د هغی نکاح له بل چا سره تړی. مگر ښکاره خبره ده. چه د دی آیت تعلق له دی صورت سره نشته (په «وثلث ورباع» کښی «و» په معنی د «او» دی. د دی آیت له حاصل څنی ځینو مفسرینو داسی بیان هم کړی دی «چه که د یتیم له مال څخه ویره کوئ! نو له زما څخه هم سخت وویریږئ! او له ښځو سره معامله په نکاح سره وکوئ! نه په سفاح سره! او له دیرو ښځو هم ویره وکړئ! او له څلورو ښځو څنی زیاتی مه کوئ!)

---

## فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ۚ

---

نو (بیا که) وویریږئ تاسی چه عدل (انصاف برابری) به ونه کړئ شئ (د ښځو په منځ کښی په نفقه، نوبت او نورو کښی) نو یوه (اصیله کوئ) یا هغه وینځی چه مالکان شوی دی د هغو (وینځو) ښی لاسونه ستاسی (تاسی ئی مالکان یئ)

**تفسیر:** یعني که تاسي له دې خبرې څخه ویرېږئ، چه په څو ښځو کښې به سم له انصافه او مساواته معامله ونشئ کړئ، نو بیا فقط په یوې نکاح قناعت وکړئ!، یا یواځې پر وینځو باندي یوه وی که ډیرې اکتفا وکړئ!، او که مو زړه غواړي له یوې منکوحې سره څو وینځې هم وساتئ!

ذٰلِكَ اَدْنٰٓى اَلَّا تَعُوْلُوْا ۝٣

دا (نکاح د یوې اصیلي یا د ډیرو وینځو) ښه نژدې ده دی ته چه ظلم ونه کړئ تاسي (او یو جانب ته متمائل نشئ تاسي!)

**تفسیر:** یعني یواځې له یوې ښځې سره له نکاح کولو څخه یا فقط په خپلې یوې وینځې یا ډیرو وینځو باندي په قناعت کولو کښې یا له یوې نکاحي ښځې سره د یوې وینځې یا د څو وینځو په جمع کولو کښې د دې خبرې امید او توقع شته چه تاسي له بې انصافۍ او بې عدالتۍ څخه محفوظ پاتي شئ!، ځکه هغه حقوق چه زوجات ئې لري، هغسې ئې مملوکې وینځې نه لري د هغوی په منځ کښې د عدالت په نه کولو سره تاسي نه مؤاخذه کیږئ، نه هغوی لره مهر شته او نه ئې د معاشرت له پاره کوم حد مقرر دی.

**(فائده):** هر هغه څوک چه څو ښځې لري نو په ده باندي واجب دي چه د دوی په خوراک، پوښاک، راکړه ورکړه او نورو کښې مساوات وکړي او د شپې له مخه د ویدیدلو له پاره هم سم له نوبته له هرې یو ښځې سره بیل بیل هستوګنه او جلا جلا (جدا جدا) شپه تیره کړي که کوم میړه (خاوند) د خپلو ښځو په حقوقو کښې عدالت او برابري نه کوی، نو هغه به د قیامت په ورځ کښې مفلوج (ګوزن وهلی) پاڅیږي او داسي به درومي چه له خپله ځانه سره به یو لاس او یوه پښه او نور نیمائي بدن کش کاږي او که د چا په نکاح کښې یوه اصیله ښځه او یوه وینځه وي نو وینځې ته د اصیلي ښځې نیمائي نوبت او وار دی او هغه وینځه هیڅ د نوبت حق نه لري چه د خپل مالک په ملک کښې وي بلکه له دوی سره ناسته او ملاسته د دی د بادار په خوښې پوري مربوطه ده.

وَاٰتُوا النِّسَآءَ صَدُقٰتِهِنَّ نِحْلَةً ؕ

او ورکوئ تاسي ښځو (خپلو) لره مهرونه د دوی په ورکړه د خوشالۍ سره (چه فرض شوی دی له طرفه د الله پر تاسي)

**تفسیر:** یعني د هغو ښځو مهرونه چه تاسي نکاح ورسره تړلې ده په خوښې او رغبت سره پخپله اداء کړئ! بې له دې چه د هغوی کوم حامي یا بل څوک له تاسي څخه د حصول څه تقاضاء

وکړی که ونه کړی که تاسی پخپل شوق او رغبت سره د خپلو ښځو مهرونه ورکوئ! نو بیا د یتیمو نجونو په نکاح کولو کښی هیڅ کوم حرج او ممانعت نشته. بلکه حرج او ممانعت خو په هلته وی چه د دوی د مهر یا د بل کوم حق په اداء کولو کښی څه درونډوالی ولیدل شی.

فَإِنْ طِبْنَ لَكُمْ عَنْ شَيْءٍ مِّنْهُ نَفْسًا فَكُلُوهُ هَنِيٓـًٔا مَّرِيٓـًٔا ۝٤

نو که راضی شوی دا (ښځی) تاسی ته (په ښښنه) له کوم شی له دی (مهره په خوشالی) د نفس خپل نو خورئ تاسی دغه شی په داسی حال کښی چه خوندوره حلاله بی ضرره وی.

**تفسیر:** یعنی که ښځه پخپله خوښه له مهر څخنی څه شی خپل میړه (خاوند) ته معافوی یا ئی اخلی او بیا ئی ورهبه کوی نو په دی کښی هیڅ حرج نشته. او میړه (خاوند) دی هغه په خوښی سره وخوری. «هنیء» هر هغو خوړو ته وائی چه خوندور او لذیذ وی او طبیعت ئی په خوښی او رغبت سره قبول کړی. «مریء» هر هغو خوړو ته وائی چه په زړه پوری هضم او په ښه دول (طریقه) سره د بدن جزء او د صحت او قوت موجب شی.

وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَآءَ أَمْوَالَكُمُ الَّتِي جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ قِيَامًا وَارْزُقُوهُمْ فِيهَا وَاكْسُوهُمْ وَقُولُوا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ۝٥

او مه ورکوئ (مه سپارئ) تاسی! بی عقلانو ته مالونه خپل هغه چه گرځولی دی الله دپاره د تاسی سبب د گزران او روزی ورکوئ دوی ته په دی مالونو کښی او جامی ورکوئ دوی ته او ووایئ دوی ته خبره معروفه (نیکه، خوږه، پسته، معقوله).

**تفسیر:** یعنی د ناپوهو هلکانو (لیونیانو، وړو اولادونو او ښځو) په لاس کښی د دوی هغه مالونه مه ورکوئ! چه ستاسی په تصرف کښی وی او الله تعالیٰ هغه، انسانانو لره د معیشت سامان جوړ کړی دی. بلکه هغه په پوره حفاظت سره وساتئ! او د هلاکت له اندیښنی څخه ئی وژغورئ!(وساتی) او تر څو پوری چه دوی پخپله نفع او نقصان باندی ونه پوهیږی تر هغه وخته پوری ورته له همغه څخنی خوراک او کالی (جامی) ورکوئ! او تسلی ورکړئ چه دا گرد (تول) مال ستاسی دی مونږ ستاسی فائده غواړو کله چه تاسی پوه شوئ دا گرد (تول) مال تاسی ته درکاوه کیږی (یا دا معنی چه مه سپارئ کم عقلو لیونیانو یتیمانو او ښځو خپلو ته، مالونه

خپل د دوی د بلوغ تر وخته پوری او خوراک او پوښاک دوی ته ورکوئ! او دلاسه کوی ئی! او نه ښائی چه مالونه بی ځایه ولګول شی، ځکه چه مالونه د بدن د قوام او د تولو کارونو د سرته رسولو سبب دی. یعنی د مالونو په وسیله په دنیا کښی ماکول، مشروب، ملبوس، مسکن او نور، او په دین کښی زکوة، خیرات، حج، عمره، نفقه، صدقه او نور منځ ته راځی.)

وَابْتَلُوا الْيَتٰمٰى حَتّٰىٓ اِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ ۚ فَاِنْ اٰنَسْتُمْ مِّنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوٓا اِلَيْهِمْ اَمْوَالَهُمْ ۚ

او وازمویئ تاسی یتیمان تر هغه پوری کله چه ورسیږی دوی (حد، د) نکاح ته، نو که ومونده تاسی له هغو نه هوښیاری (په معاملاتو او د مال په ساتنه کښی) نو وسپارئ تاسی هغوی ته مالونه د هغوی!،

**تفسیر:** یعنی یتیمانو ته ښوونه او د دوی روزنه او ازموینه د بلوغ تر وخته پوری کوئ!. که وروسته له بلوغه په دوی کښی د ګتی او د تاوان پوهه او د مال د انتظام او د حفاظت تمیز ومومئ! نو د دوی مال وروسپارئ! د یتیمانو د ورښوونی او ازموینی عمده صورت هم دا دی چه د معمولی او د کم قیمتو شیانو پلورل او پیرودل (بیع او شراء) په دوی باندی وکړل شی!، او د هغو طریقه دی دوی ته وروښووله شی!

**تنبیه :** له دی ځخه راښکاره شوه چه د نابالغ هغه بیع او شراء چه د «ولی» په اجازه وی روا ده . او هم دا زمونږ د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه مذهب دی. او که سره له بلوغه هم په ده کښی پوهه او هوښیاری ونه لیده شی نو زمونږ د حنفیانو په مذهب دا دی چه تر (٢٥) کلونو پوری دی ورته وګوری د انتظار په دی موده کښی هر کله چه په ده کښی پوهه او هوش ولیده شی مال دی ورته وسپاری که نه له (٢٥) کلونو ځخه وروسته دی خامخا د ده مال ورپریږدی اعم له دی نه که د کاملی پوهی او عقل خاوند وی او که نه وی.

وَلَا تَاْكُلُوْهَآ اِسْرَافًا وَّبِدَارًا اَنْ يَّكْبَرُوْا ؕ

او مه خورئ تاسی دا (د یتیمانو ناپوهانو مالونه) په اسراف سره (چه له ضرورته زیات وی) او په جلتی سره (پخوا له حاجته د ویری د دی) چه دوی به لوی شی (نو وابه ئی خلی)،

**تفسیر:** یعنی د یتیم مال له ضرورته زیات صرفول منع دی. لکه چه د یوی پیسی په ځای دوه

پیسی صرف کړی. او دا هم منع ده چه له دی خبری ځنی وویرېږئ! که دا یتیم لوی شی نو خپل مال به له ما ځنی بیرته واخلی نو په صرفولو کښی ئی تلوار په کار دی. خلاصه ئی داسی شوه چه باید د یتیم مال د ضرورت په اندازه او د وخت له غوښتنی سره سم صرف شی.

---

وَمَنْ كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ وَمَنْ كَانَ فَقِيرًا فَلْيَأْكُلْ بِالْمَعْرُوفِ

---

او هر څوک چه وی مال داره نو ښائی ځان پاک وساتی (د یتیمانو له مالونو څخه) او هر څوک چه وی فقیر نو خوری دی له دی مال څخه په معروف (له دستور سره سم د مزدوری په اندازه) سره.

---

**تفسیر:** یعنی «ولی» دی د یتیم مال د خپل ځان له پاره نه خرځوی. او که د یتیم پالونکی او تربیه کوونکی محتاج وی کولی شی چه د خپل خدمت په اندازه د یتیم له مال ځنی خپله مزدوری واخلی! مګر غنی ته له سره څه اخیستل روا نه دی.

---

فَإِذَا دَفَعْتُمْ إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ فَأَشْهِدُوا عَلَيْهِمْ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ حَسِيبًا ⁽⁶⁾

---

نو کله چه ورکړئ (وسپارئ) تاسی دغو (یتیمانو) ته مالونه د دوی نو شاهدان ونیسئ تاسی پر دوی باندی او کافی (بس) دی الله په دی حال کښی چه ښه حساب (کوونکی او جزا ورکوونکی دی)

---

**تفسیر:** کله چه د کوم وړوکی پلار مړ شی نو ښائی چه د ټو مسلمانانو په مخ کښی د یتیم مال ولیکل شی! او بیا ئی امانت دار ته وسپاری! کله چه دا یتیم بالغ او هوښیار شی، نو سم له هغه لیک سره دی د هغه مال بیرته ورکړی! او څومره شی چه صرف شوی وی د هغه حساب دی هم وروښئی!، او هغه شی چه پر یتیم باندی سپاری ښائی چه په هغه باندی هم شاهدان ونیسی او وروئی ښئی څو چه د راتلونکی اختلاف او جګړی په وخت کښی خبره په سهولت سره صافه، او شخړه ورکه شی. (او تهمت یا جګړه یا قسم یا نور ورته متوجه نشی. او که شاهدان نه وو نو د انکار په وخت کښی امام اعظم رحمة الله علیه وائی قول، قول د «ولی» دی سره له قسمه) او

الله تعالیٰ د هر شي حفاظت کوونکی او ګردو حسابونو ته کافي او حسیب او هغه ته هر شي ښه معلوم دی او د چا حساب او شهادت ته هیڅ ضرورت نه لری، دا ګردی (تولی) خبری ئی ستاسی د سهولت او صفائی لامله (له وجی) مقرر کړی دی.

**تنبیه :** د یتیم د مال د اخیستلو او بیرته ورسپارلو په وخت کښی د شاهدانو درول، او د هغه د مال تحریری حساب اخیستل مستحب دی.

---

لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ ۚ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا ۝

---

شته نارینه ؤ لره(هم لوی وی که واړه) نصیب د دوی له هغه ماله چه پریښی وی مور او پلار او خپلوانو او شته ښځو لره (هم لوئی وی که وړی) نصیب (برخه) له هغه ماله چه پریښی وی مور او پلار او خپلوانو هغه (مبلغه) چه لږ وی له دی ماله او که ډیر وی، نصیب (برخه) مقرر کړی شوی (له طرفه د الله نه)

---

**تفسیر:** د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وآله وصحبه وسلم له زمانی څخه پخوا دا رسم ؤ چه لویو او وړو جینکو او نابالغو هلکانو ته به ئی میراث نه ورکاوه او یواځی هغو نارینه ؤ ته به میراث رسیده او وارثان ګڼل کیدل چه لویان او د دښمنانو د مقابلې او مقاتلې لیاقت به ئی درلود (لرلو) چه په دی سبب وړو یتیمانو ته له میراث څخنی هیڅ شي نه ورکاوه کیده، نو د دوی په نسبت دا آیت نازل شو چه خلاصه ئی داسی ده. «د مور او پلار او نورو خپلوانو له متروکه مال څخنی نارینه ؤ یعنی ځامنو لره اعم له دی چه وړوکی وی یا ځلمی د دوی برخه رسیږی. او ښځو لره یعنی لونو ته اعم له دی چه وړوکی وی یا پیغلی د مور او پلار او نورو خپلوانو له ترکی څخنی د دوی برخه ورکولی کیږی او دا برخی تاکلی (مقرر) شوی دی هغه متروکه مال لږ وی که ډیر د هغو ورکول ضروری دی په دی سره د جاهلیت د بد رسم ابطال وشو او د یتیمانو او د نورو د حقوقو حفاظت ئی وفرمایه او د دوی د حق تلفی مخه ئی بیخی ونیوله.

**(فائده) :** په دی آیت کښی د حق لرونکو حق او د هغه تقرر او تعئین بالاجمال راښوول شوی دی. په وروستنی رکوع کښی د وارثانو د برخی تفصیل راښوول کیږی.

وَإِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ أُولُوا الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينُ فَارْزُقُوهُم مِّنْهُ وَقُولُوا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ⑧

او کله چه حاضر شي قسمت (د ميراث) ته خاوندان د خپلوی (چه وارثان نه وی) او يتيمان او مسکينان نو روزی ورکوئ تاسي دوی لره له هغه (ميراثه) او ووايئ تاسي دوی ته خبره معروفه (خوږه معقوله)

**تفسير:** يعني د ميراث د تقسيم په وخت کښې چه تول خپلوان او د کور کهول غړی يو تر بله سره تول شي که له دی خپلوانو څخه ځينې داسي وی چه هغوی ته ميراث نه رسيږی يا يتيم او محتاج وی نو دوی ته څه خواړه ورکړئ! او رخصت ئی کړئ! يا له موقع سره مناسب کوم شی له ترکی څخنی ورته ورکړئ! ځکه چه داسي سلوک مستحب دی. که د ميراث په مال کښې د خوراک وړ (لائق) شی نه وی يا ئی موقع نه وی لکه چه هغه د يتيمانو مال وی او مړی وصيت هم نه وی کړی نو له دی خپلوانو سره ښې مناسبې او معقولې خبری وکړئ! او رخصت ئی کړئ! يعني په پسته ژبه سره له دوی څخنی معذرت وغواړئ! او داسي ورته ووايئ چه «دا مال د يتيمانو دی او مړی وصيت هم نه دی کړی نو ځکه مونږ مجبور يو چه له تاسي څخنی معذرت غواړو». د دی سورت په ابتدا کښې بيان وشو چه گرد (تول) خپلوان درجه په درجه د سلوک او مراعات مستحق دی او يتيمان او مساکين هم. او که کوم قريب يتيم يا مسکين هم وی نو د هغه مراعات ښائی چه لا زيات وشی! نو ځکه د ميراث د تقسيم په وخت کښې هغوی ته حتی الوسع څه نه څه ورکول ښه دی. او که له هيڅ لوری هغه وارث نه وی. نو ښائی چه له ښه سلوک څخنی بی برخی نشی.

وَلْيَخْشَ الَّذِينَ لَوْ تَرَكُوا مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعَافًا خَافُوا عَلَيْهِمْ فَلْيَتَّقُوا اللَّهَ وَلْيَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا ⑨

او ودی ويريږی (د يتيمانو پر ضياع) هغه وصيان که پريږدی دوی پس له (مرگه) خپل اولاد ضعيفان (نو) ويريږی به دوی په دغو (اولادونو چه وروسته له مونږ به دوی هم داسي شی) پس ودی ويريږی دوی له الله څخه او ودی وائی دوی ته خبره سمه خوږه.

**تفسير:** په اصل کښې دا ارشاد د يتيم د «ولي» او «وصي» له پاره دی. نورو ته هم درجه په

درجه ښائي چه د دې خبرې خيال وساتي مطلب دا چه هر سړی سره دې دا انديښنه وي. «نه چه زما له مرګه وروسته زما له اولادې سره څه سخته معامله وکړه شي» نو د دې لامله (له وجې) تاسو لره هم ښائي چه له يتيمانو سره همغسې معامله وکړئ چه تاسې ئې خپلو زامنو ته پس له مرګه غواړې او له الله تعالیٰ څخنې ووېرېږئ! او له يتيمانو سره سمې ښې خوږې خبرې کوئ! يعنې هسې معامله له دوی سره وکړئ چه په هغې باندې د دوی زړه مات نشي او نه دوی ته څه تاوان ورسيږي بلکه تل تر تله د هغوی د اصلاح، ښيګڼې (ښه والي) ، تعليم، تربيې، تاديب او تهذيب خيال ولرئ! ( او قريب الموت مريض ته نصيحت وکړئ! چه په وصيت کښې له اصرافه او د ورثې د حقوقو له تضييع نه ځان وساتئ او د شهادت کلمه او توبه په خوله کښې ورکړئ! او د ترکې او د قسمت حاضرينو سره ښه د انسانيت او ميراني وضعيت وکړئ!)

إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَىٰ ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا ۖ وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا ﴿١٠﴾

بيشکه هغه کسان چه خوري دوی مالونه د يتيمانو په ظلم سره (بې له شرعي اذنه) خبره دا ده چه خوري دوی په (ډکو) ګيډو خپلو سره اور، او ژر به ورسيږي (ننه به وځي) دوی اور سخت ته.

**تفسير:** په سابقه ؤ متعددو آيتونو کښې د يتيمانو د اموالو په نسبت د راز راز (قسم قسم) احتياط کولو حکم شوی دی او د دوی په مال کښې خيانت کول سخته ګناه ښوول شوه اوس په آخر کښې د يتيم په مال کښې په خيانت کولو باندې د شديدو وعيدو بيان فرمائي، او هغه حکم لا پسې مؤکد کوي چه هر هغه څوک چه د يتيم مال بلا استحقاقه خوري هغه خپله ګيډه د جهنم له اوره ډکوي يعنې د هسې خوراک انجام به داسې کيږي او دا ئې په آخره جمله کښې راښکاره کړه.

يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ ۖ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنثَيَيْنِ ۚ

حکم کوي تاسې ته الله په (حق د ميراث د) اولاد ستاسې کښې چه (تاسې مره شئ) شته نارينه لره (له ميراثه) په مثل د برخې د دوو ښځو،

**تفسير:** پاس د مړي د اقاربو د وراثت ذکر وشو او د دوی د برخو د تقرر او تعيين په نسبت ئې اجمالي اشاره فرمايلې ده اوس د اقاربو او د دوی د برخو تفصيل ښوول کيږي او پخوا له

هغه څخه د يتيمانو په حق کښې د تشديداتو او تأکيداتو ذکر کيده چه له هغه څخه دا خبره هم معلومه شوه که د مړی په اقاربو کښې کوم يتيم وی نو ښائی د دی يتيم په برخه ورکولو کښې ډير زيات احتياط او اهتمام وکړ شی! چه د عربو له قديم رسم سره موافق د دوی محروميت له ميراث څخنی سخت ظلم او لويه ګناه ده. اوس په اقاربو کښی له ګردو (تولو) څخه پخوا د اولادونو د حصو بيان فرمائی. که د کوم ميت په اولاده کښې هلک او جينی دواړه وی نو هغوی ته د ميراث ورکولو دا قاعده ده چه يوه هلک ته به د دوو جينکو حصه ورکوله کيږی. مثلاً که يو هلک او دوه جينکی وی نو نيمائی مال هلک ته او بله نيمه ئی هغو دوو جونو ته ورکوله کيږی. او که يو ځوی او يوه لور تری پاتی وی نو دوه ثلثه هلک ته او يو ثلث جينی ته ور رسيږی.

---

فَإِن كُنَّ نِسَآءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ ۖ وَإِن كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ ۚ

---

نو که وو دا (اولاد خالصی) ښځی پورته له دوو څخه (يا دوی) نو (شته) دوی لره دوه ثلثه (دوی دريمی برخی) د هغه مال چه پريښی وی (مړی) او که وه دا (مولوده لور) يوه نو هغی لره نصف (يعنی نيمائی د ترکی دی)،

---

**تفسير:** يعنی او که د کوم مړی په اولاده کښی يواځی ښځی يعنی لونی پاتی شی او زوی نه وی تری پاتی نو که دا جونی له دوه څخنی زياتی، يا دوه وی بيا هم هغو ته هم دا دوه ثلثه، دوه دريمی ورسيږی. او که يواځی يوه جينی تری پاتی وی نو دی ته د پلار نيمائی ترکه وررسيږی.

**تنبيه :** د «للذکر مثل حظ الانثيين» په ذيل کښی دا راڅرګنده شوه چه يوی جينی ته له يوه هلک سره يو ثلث وررسيږی. نو له دی څخنی معلومه شوه چه يوی جينی ته به له بلی جينی سره په طريق الاولی يو ثلث وررسيږی. ځکه چه د هلک حصه د جينی له حصی څخنی زياته ده نو کله چه د هلک په سبب د دی برخه له يوه ثلث څخه کمه نه شوه نو د بلی جينی له سببه به څرنګه هغه برخه لږ کيدی شی؟ کله چه د دوو جونو حکم په پخوانی آيت کښی معلوم شوی ؤ نو ځکه په دی کښی له دوو څخنی د زياتو لونو حکم هم راښئی چه چاته داسی کومه شبهه پيدا نشی کله چه د دوو لونو حق د يوی جينی له حق څخنی زيات دی نو ښائی د درو او څلورو او د ډيرو برخی به له هغه زيات وی. حال دا چه خبره داسی نه ده بلکه کله چه لونی له يوی څخنی زياتی وی دوه وی که لس که زياتی، هغو ګردو (تولو) ته به همغه دوه ثلثه وررسيږی.

**(فائده) :** د اولاد د وراثت دوه صورتونه په آيت کښی ذکر شول.

(١) دا چه هلک او جينی دواړه نوعه اولاد موجود وی.

(٢) دا چه یواځې لوڼی ولری او دا دوه صورتونه لری. چه یوه لور وی یا له یوی زیاتی وی نو اوس یواځې یو صورت پاتی دی چه یواځې هلکان ولری. نو د هغه حکم دا دی چه گرد (تول) میراث به هغوی ته وررسیږی. اعم له دی چه یو وی که ډیر.

وَلِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِن كَانَ لَهُ وَلَدٌ

او شته مور او پلار د ده (مړی) ته له پاره د هر یوه له دی دواړو سدس (شپږمه برخه) له هغه مال چه پریښی وی (مړی) که وی مړی لره ولد (ځوځات)،

**تفسیر:** اوس د مور او پلار د میراث دری صورتونه بیان فرمائی.
د اول صورت خلاصه دا ده . «که د میت اولاده زوی یا لور وی نو د میت مور او پلار ته د ده له ترکی څخنی هر یوه ته سدس، شپږمه برخه وررسیږی».

فَإِن لَّمْ يَكُن لَّهُ وَلَدٌ وَوَرِثَهُ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ الثُّلُثُ

نو که نه وی ده لره ولد (ځوځات) حال دا چه میراث اخلی له ده (مړی څخه یواځې) مور او پلار د ده نو دی مور د ده لره ثلث (دریمه برخه د ترکی او نور تول د پلار دی).

**تفسیر :** د دوهم صورت خلاصه دا ده . «که میت هیڅ اولاد ونه لری او یواځې مور او پلار ئی وارث وی نو د هغه مور ته یو ثلث، دریمه وررسیږی یعنی نور پاتی دوه ثلثه د هغه پلار ته وررسیږی.

فَإِن كَانَ لَهُ إِخْوَةٌ فَلِأُمِّهِ السُّدُسُ

نو که وی مړی لره ورونه (یا خویندی) نو شته مور د ده لره سدس (د ترکی شپږمه برخه)

**تفسیر:** دریم صورت دا که د میت له یوه څخه پورته ورونه او خویندی وی، که سکنی وی، که د پلار له لوری یا د مور له لوری او اولاد هیڅ ونه لری نو په دی صورت کښی د ده مور ته سدس (شپږمه برخه) وررسیږی. یعنی باقی گرد (تول) د هغه پلار ته پاتی کیږی ورور او خور ته

هیڅ نه وررسیږي.که یو ورور یا یوه خور ولرې نو مور ته یو ثلث او پلار ته دوه ثلثه وررسیږي لکه چه پاس په دوهم صورت کښې ذکر شو.

## مِنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٖ يُوصِي بِهَآ أَوۡ دَيۡنٍۗ

پس له (اداء کولو د) وصیت څخه چه وصیت وکړی میت په هغه سره یا پس (له اداء کولو) د دین څخه

**تفسیر:** یعنی هومره چه د وارثانو برخی ذکر شوی دی، دا ګردی (تولی) د میت د وصیت، او د هغه د قرض له اداء کولو څخه وروسته وارثانو ته ورکولی کیږی او د وارثانو حق فقط په هغومره مال کښی کیږی، چه د وصیت او د قرض د مقدار له ایستلو څخه وروسته پاتی کیږی. او نصف (نیمائی) او ثلث (دریمه برخه) او نور له هم دی پاتی مال ځنی مراد دی نه له ګرد (تول) مال څخه.

**(فائده) :** د میت مال دی اول د ده په ګور او کفن کښی ولګاوه شی! څه چه له هغه څخه پاتی شی، له هغه څخه دی د ده قرض ورکړ شی! څه چه د ده له قرض څخه پاتی شی، له هغه ځنی تر یوه ثلثه (دریمی برخی) پوری دی د مړی په وصیت کښی صرف کړ شی! وروسته له ګور او کفن او قرض او پس له وصیت څخه د مال په ثلث کښی، په پاتی متروکه کښی ګرد (تول) وارثان سره شریکان دی! او هغه ترکه پر دوی باندی ویشله کیږی.

## ءَابَآؤُكُمۡ وَأَبۡنَآؤُكُمۡ لَا تَدۡرُونَ أَيُّهُمۡ أَقۡرَبُ لَكُمۡ نَفۡعٗاۚ فَرِيضَةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمٗا ١١

پلرونه ستاسی او ځامن ستاسی نه پوهیږئ تاسی چه کوم یو له دوی زیات نژدی دی تاسی ته له جهته د نفعی، (دا برخی فرض شوی دی) مقرره برخه له (جانبه) د الله، بیشکه چه الله دی ښه عالم (په تولو احوالو) ښه حکمت والا (چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی).

**تفسیر:** په دی آیت کښی ئی دوه دوله (قسمه) میراث بیان کړ. د اولاد میراث او د مور او پلار. اوس فرمائی څرنګه چه دا خبره تاسی ته معلومه نه ده، چه له کوم یوه ځنی به تاسی ته نفع؟ او څومره نفع دررسیږی؟، نو ځکه په دی کښی تاسو ته نه ښائی چه څه مداخله وکړئ. هره برخه او حصه چه الله تعالیٰ هر چاته مقرره کړی ده د هغه رعایت وکړئ! ځکه چه الله تعالیٰ

پر هر شي باندی ښه خبردار او لوی حکمت والا دی.

وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّهُنَّ وَلَدٌ فَإِن كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ مِن بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِينَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ

او شته تاسی ته نیم د هغه مال چه پریښی دی ښځو ستاسی که نه وی دی ښځو لره ولد (ځوځات) نو که وی دی ښځو لره ولد (ځوځات) نو تاسی لره شته (څلورمه) برخه له هغه ماله چه پریښی وی دی ښځو پس (له ادا کولو) د وصیت نه چه وصیت کړی وی(دی ښځو) په هغه سره یا (پس له ادا کولو د) دین څخه (چه وی په دی ښځو)

**تفسیر :** اوس د زوجینو د میراث بیان کاوه شي، چه میره (خاوند) لره د ده د ښځی له مال څخنی نیمائۍ وررسیږی که دا ښځه اولاد ونه لری. او که اولاد ولری اعم له دی چه یو زوی یا یوه لور یا ډیر ځامن او لونی، له دی میره (خاوند) څخنی، یا له بل میره (خاوند) څخنی ولری، نو میره (خاوند) ته د دی له مال څخنی ربع (څلورمه برخه) وروسته له ورکولو د قرض او وصیت څخه وررسیږی.

وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّكُمْ وَلَدٌ فَإِن كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُم مِّن بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوصُونَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ

او شته دی ښځو لره څلورمه برخه له هغه مال چه پریښی وی تاسی که نه وی تاسی لره ولد (ځوځات) نو که ؤ تاسی لره ولد (ځوځات) نو دی ښځو لره ثمن (اتمه برخه) له هغه ماله چه پریښی وی تاسی پس له ادا کولو د وصیت چه وصیت کوئ تاسی په هغه سره یا پس له ادا کولو د دین (چه وی پر تاسی ای خاوندانو)

**تفسیر:** او هم داسی ښځې لره چه میړه (خاوند) ئې اولاد نه لري، د دې د میړه (خاوند) له مال څخه ربع (څلورمه برخه) وررسیږي که اولاد لري اعم له دې چه له هم دې ښځې څخه وي که له بلې ښځې څخه نو ښځې ته ثمن (اتمه برخه) د دې د میړه (خاوند) له هغه مال څخه وررسیږي چه دوصیت اوقرض‌له اداکولو څخه وروسته پاتې‌وي له هر قسم‌مال څخه نغدوي که جنس، وسله وي که ګانه (زیور) ، سرای وي که باغ، پاتې شو د ښځې مهر هغه له میراث څخې جلا (جدا) او په قرض کښې داخل دې دا ګرد (تول) دوه صورتونه لري. لکه چه د نارینه د میراث صورتونه هم دا دوه ؤ.

---

وَإِن كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلَٰلَةً أَوِ ٱمْرَأَةٌ وَلَهُۥٓ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ فَلِكُلِّ وَٰحِدٍ مِّنْهُمَا ٱلسُّدُسُ ۚ

---

او که ؤ یو سړی چه میراث تری وړل کیږي کلاله (بی ولده بی والده) یا ښځه وه (هم داسې کلاله) حال دا چه وي دې مړي لره (یو اخیافي) ورور یا (اخیافي) خور پس شته هر یوه لره له دې (اخیافي) ورور او خوره سدس (شپږمه برخه د ترکې)،

---

**تفسیر:** له دې ځایه د «اخیافي» ورور او خور د میراث ذکر دی چه یواځې په مور کښې سره شریکان وي، نو ښائي وپوهیږئ! چه د پلار او زوی د پاتې کیدلو سره ورور او خور ته هیڅ نه وررسیږي. هو! که والد او ولد نه وي نو ورور او خور ته به میراث وررسیږي. ورور او خور په دری دوله (طریقه) دي.

(۱) سکنې چه په مور او پلار کښې سره شریکان وي، چه دوی ته «عیني» وائي.

(۲) «علاتي» چه یواځې په پلار کښې سره شریکان وي

(۳) «اخیافي» چه یواځې په مور کښې سره شریکان وي.

په دې آیت کښې د «اخیافي» ذکر دی لکه چه د متعددو اصحابو کرامو په قرائتونو کښې د «وله اخ او اخت» څخه وروسته د «من الام» کلمه په تصریح سره شته. او په دې باندې د ګردو (تولو) اصحابو اجماع ده چه په دې ځای کښې له (اخ) څخه اخیافي ورور مراد دی. د دې آیت مطلب دا دی چه هر هغه میت نارینه وي که ښځه چه مور او پلار او لور او زوی هیڅ نه لري، او یواځې یو «اخیافي» ورور یا خور ولري نو له دې دواړو څخه هر یوه ته سدس (شپږمه برخه) وررسیږي. او د نارینه او ښځې یعنې د «اخیافي» ورور او خور برخه برابره ده. او هیڅ زیادت او کمې پکښې نشته پاتې شوه دوه دول (طریقه) ورور او خور یعنې «عیني» او «علاتي» نو د دې دواړو حکم لکه د اولاد داسې دی. په دې شرط چه د مړي پلار او زوی هیڅ نه وي. مقدم «عیني» دی. که هغه نه وي نو «علاتي» دی. د «النسآء» د سورت په آخر کښې د دې

دواړو د میراث ذکر هم راځي.
**فائده :** د «کلالي» دا تفسیر چه کړی شوی دی (چه د هغه پلار او زوی نه وی) دا ګرد (تول) سره مني، مګر زمونږ امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د نیکه او لمسی نفي هم ورسره کوی، او وائی کوم حکم چه په پلار او ځوی باندی مرتب کیږی، عیناً همغه حکم پر نیکه او لمسی باندی هم مرتب کیدونکی دی. او د حضراتو صحابه ؤ له وخت څخه راهیسی دا اختلاف د علماؤ په منځ کښی دوام لری.

فَإِن كَانُوٓا۟ أَكْثَرَ مِن ذَٰلِكَ فَهُمْ شُرَكَآءُ فِى ٱلثُّلُثِ ۚ مِنۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصَىٰ بِهَآ أَوْ دَيْنٍ غَيْرَ مُضَآرٍّ ۚ

نو که وو (ورونه خویندی د کلالي) زیات له دغه (یو ورور او خور څخه) نو دوی ګرد (تول) سره شریکان دی په ثلث (دریمه برخه د ترکی) کښی وروسته له (اداء کولو د) وصیت چه وصیت کولی شي په هغه سره یا پس (له اداء کولو) د دین په دی حال کښی چه (نورو ته) نقصان ونه رسوی (په دی وصیت کښی).

**تفسیر:** یعنی که «اخیافی» ورور او خور له یوه څخنی زیات وی نو دوی ګردو (تولو) ته همغه یو ثلث (دریمه برخه) په میراث وررسیږی او په ړومبی صورت کښی هغه «سدس» (شپږمه) او په وروستنی صورت هغه «ثلث» چه ورکاوه کیږی له وصیت او قرض څخنی وروسته څه مال چه باقی پاتی کیږی له همغه څخنی دا «ثلث» یا «سدس» ورکاوه کیږی. او وصیت هلته صحیح او پر میراث باندی مقدم کیدی شي چه په هغه کښی د نورو څه زیان نه وی او دا زیان دوه صورتونه لری.
(۱) دا چه له یوه «ثلث» څخنی ئی د زیات مال وصیت کړی وی.
(۲) دا چه د هغه وارث له پاره چه هغه ته له میراث څخنی هم برخه وررسیږی څه وصیت وکړی په دی دواړو صورتونو کښی وصیت صحیح نه دی. هو! که ګرد (تول) ورثه هغه وصیت سره منی نو ښه! که نه هسی وصیتونه ګرد (تول) مردود دی.
**(فائده) :** څرنګه چه له وارثانو څخنی اندیښنه وه چه د میت له ترکی څخنی به د میت وصیت او قرض اداء نه کړی بلکه تول مال به د خپلو ځانونو له پاره وساتی نو ځکه ئی له میراث سره هر ځلی د وصیت او د دین د حکم تاکید بیان کړ او کله چه وصیت تبرع او احسان دی او دیر ځله یو معین سړی د دی مستحق نه وی او له دی سببه د هغه د ضائع کیدلو احتمال قوی ؤ نو ځکه ئی د اهتمام او احتیاط لامله (له وجی) په هر ځای کښی له دین (پور) څخنی د وصیت

ذكر د مخه فرمايلي دي حال دا چه د وصيت درجه له دين څخه وروسته ده لكه چه پخوا تيره شوه. (يعني لكه چه هيڅوک د دين په اداء کښې غفلت نه کوي هم داسې دي په وصيت کښې هم نه کوي!) او هم وصيت د مورث حق دي لكه تجهيز او تكفين. پرته (علاوه) له وراثت او دين څخه چه هغه د نورو حق دي نو له دې حيثيته به وصيت له دين څخنې مقدم وي اګر که له بلې وجې دين په وصيت باندې وړاندې دي او دلته چه د (غير مضار) قيد زيات شوی دی هم دا قيد به په نورو سابقه ځايونو کښې هم معتبر وي.

## وَصِيَّةً مِّنَ اللّٰهِ ۗ وَاللّٰهُ عَلِيمٌ حَلِيمٌ ⑫

وصيت کوي الله تاسې ته وصيت له (جانبه) د الله، او الله ښه عالم دی (په ټولو احوالو) ډير تحمل والا (په تاخير د عقوبت له پاره د انابت)

**تفسير:** هغه ميراثونه چه د دې ركوع له شروع څخه تر دې ځايه پورې بيان شوي دي پنځه دي. (١) ځوی لور (٢) مور پلار (٣) ميره (خاوند) (٤) ښځه (٥) اخيافي ورور خور. هم دې پنځو ته ذوي الفروض يعني د معلومو برخو خاوندان وائي (په استثناء د ځوي چه عصبه دی) د دې پنځو واړو د ميراث احكام ئې بيان كړل، په پاى کښې ئې د تاكيد په ډول (طريقه) وفرمايل . «دا حكم د پاک الله دی او تعميل ئې ضروري دی او الله جل جلاله ته هر شی معلوم دی چه کوم يو اطاعت کوي او کوم يو غاړه غړه وي؟ او کوم يو په ميراث، وصيت، او دين کښې له حق او انصاف سره سم کار کوي او کوم يو بې انصافي کوي او ضرر رسوي؟ او په دې خبره دې هيڅوک ونه غوليږي چه د ظلم او بې انصافي په سزا کښې ولې تاخير کيږي؟ ځكه چه د الله تعالیٰ حلم هم ډير كامل دی.

**(فائده) :** ښائي وپوهيږو چه پرته (علاوه) له «ذوي الفروضو» څخه چه د هغو ذكر په هم دې ركوع کښې تير شو يو بل قسم وارث هم دی چه هغه ته «عصبه» وائي. او هغو لره كومه معينه برخه لكه نصف (نيمائي) او ثلث (دريمه) او ثلثان (دوه برخې له درې برخو) او ربع (څلورمه برخه) او سدس (شپږمه برخه) او نور نه ده مقرره بلكه هر هغه شی چه له «ذوي الفروضو» څخنې كوم يو نه وي نو د هغه ټول مال (عصبه) ته وررسيږي. او كه (ذوي الفروض) او «عصبه» دواړه وي نو اول «ذوي الفروضو» ته او كه ترې پاتې نشو «عصبې» ته هيڅ نه ور رسيږي او اصلي «عصبه» هغه دي چه نارينه وي ښځه نه وي او د ده او د مړي په مينځ کښې د ښځې واسطه هم نه وي او د دوی درجې څلور دي.

(١) ځوی او لمسی.

(٢) پلار او نيكه.

(٣) ورور او وراره.

(٤) تره او د تره ځوی یا د ده لمسی.
که څو تنه «عصبه» موجود وی نو میراث همغو عصبه ؤ ته وررسیږی چه مړی ته نژدی وی لکه د لمسی په مقابل کښی ځوی او د وراره په مقابل کښی ورور وړاندی دی نو بیا د «اخیافی» او «علاتی» په مقابل کښی (اعیانی) مقدم دی. د دی څلورو واړو په استثناء او له ورور سره خور هم «عصبه» کیږی. دا اصلی «عصبه» نه دی بلکه دی غیر اصلی دی پرته (علاوه) له اولاده او وروڼو څخه د نورو نارینه ؤ سره ښځی نه «عصبه» کیږی. مثلاً د تره زوی «عصبه» دی مګر ده سره د تره لور «عصبه» نشی کیدی.
**(فائده)** : د دی پاس ذکر شویو قسمونو یعنی «ذوی الفروضو» او «عصبه ؤ» څخه علاوه زموږ د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په نزد دریم قسم وارث «ذوی الارحام» هم شته. یعنی داسی قرابت لرونکی چه د ده او د مړی په منځ کښی د ښځی واسطه وی چه نه «ذوی الفروض» وی او نه «عصبه» لکه لمسی، نیا، خورئی، ماما، ترور، توړی او د دوی اولاده کله چه له کوم مړی څخه نه «ذوی الفروض» او نه «عصبه» هیڅ، یو نه وی پاتی نو د هغه میراث «ذوی الارحامو» ته ور رسیږی د دی تفصیل د فرائضو په کتابونو کښی مذکور دی.

تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ۭ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ يُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ
تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۭ وَذٰلِكَ الْفَوْزُ
الْعَظِيْمُ ⑬ وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَتَعَدَّ حُدُوْدَهٗ
يُدْخِلْهُ نَارًا خَالِدًا فِيْهَا ۠ وَلَهٗ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ⑭

دا (د یتیمانو، میراثونو، وصیت او د دین تیر شوی حکمونه) حکمونه د الله دی، او هر څوک چه ومنی حکم د الله او د رسول د ده نو داخل به کړی الله دغه (مطیع په هسی) جنتونو کښی چه بهیږی له لاندی د (مانیو او ونو د) هغو ویالی همیشه به وی (دوی) په دی (جنتونو) کښی، او دا (ننوتل جنت ته) مراد موندل (بری) دی ډیر لوی. او هر څوک چه نافرمانی کوی د الله او د رسول د ده او وځی له حدوده د الله نو داخل به کړی (الله) دغه (معتدی) اور ته چه همیشه به وی (دی) په هغه (اور د دوزخ) کښی او (شته) ده ته عذاب ډیر سپکونکی.

**تفسیر:** یعنی دا پخوانی ګرد (تول) ذکر شوی احکام (چه د یتیمانو حقوق، وصیت او میراث

دی) د الله جل جلاله مقرری کړی ضابطې او قاعدې دی هر هغه څوک چه اطاعت کوی او د الله احکام منی چه په هغو کښې د وصیت او د میراث حکم هم شامل دی نو د هغه له پاره تل جنت دی. او هر هغه څوک چه سر غړوی او د الله تعالیٰ له حدودو څخه بیخی خارجیږی (یعنی حلال ئې حرام او حرام ئې حلال ګڼی) نو هغه له ذلت او خواری سره تل د جهنم په عذاب کښې پاتې کیږی.

---

وَالّٰتِیْ یَاْتِیْنَ الْفَاحِشَةَ مِنْ نِّسَآىِٕكُمْ فَاسْتَشْهِدُوْا عَلَیْهِنَّ اَرْبَعَةً مِّنْكُمْ ۚ فَاِنْ شَهِدُوْا فَاَمْسِكُوْهُنَّ فِی الْبُیُوْتِ حَتّٰی یَتَوَفّٰىهُنَّ الْمَوْتُ اَوْ یَجْعَلَ اللّٰهُ لَهُنَّ سَبِیْلًا ﴿١٥﴾

---

او هغه (میروښی) ښځی چه راځی فاحشه (د زنا قبیح کار) ته له ښځو ستاسی نو شاهدان وغواړئ (ای قاضیانو له قاذفه) پر دوی باندی څلور تنه له تاسی (مسلمانانو نه)، نو که شاهدی وویله (شاهدانو پر زنا) نو بندی کړئ تاسی دا (ښځی) په کوټو کښې تر هغه پوری چه وفاتی کاندی دوی موت یا وګرځوی (مقرر کړی) الله دوی لره کومه لاره د (خلاصی له دی بنده).

---

**تفسیر:** وروسته د یتیمانو، او د موارېثو له بیانه، اوس د اقاربو نور متعلقه احکام راښئی. اول د ښځو په نسبت د څو خبرو ارشاد کیږی چه د هغو خلاصه دا ده «د ښځو تادیب او سمول یو ضروری امر دی. خو پر دوی باندی هیڅ قسم ظلم او تعدی کول ښه کار نه دی.» د جاهلیت په زمانه کښې په دی دواړو مواردو کښې پر ښځو باندی ډیر تیری او بی اعتدالی کیده، او په دی آیت کښې د هغو د تأدیب په نسبت حکم دی. «که د کومی زوجی په نسبت د زنا ارتکاب معلوم شو نو د دی له پاره څلور تنه شاهدان چه هر یو ئې مسلمان، عاقل، بالغ او ازاد وی ونیسئ!، که دا څلور واړه پر زنا ئې شاهدی ورکړی نو دا ښځه دی په کوټه کښې مقیده وساتی! او هسی انتظام دی وکړی! چه له کوره ونه وځی او له چا سره کتنه ونه کړی شی تر څو چه هغه ښځه مره شی، یا الله تعالیٰ د هغی د پاره کوم بل حکم او سزا مقرره وفرمائی. د دی آیت د نزول تر وخته ئې د زانیی له پاره کوم حد نه ؤ مقرر فرمایلی بلکه د تعیین وعده ئې راکړه لکه چه څه موده وروسته ئې په (١٨) جزء د «النور» د سورت په (٢) آیت،اوله رکوع کښې د هغه حد نازل کړه چه د باکری له پاره یو سل دری او د ثیبی له پاره «رجم» یعنی په ګټو سره ویشتل دی، تر څو چه مړه شی.

# وَالَّذٰنِ يَأْتِيٰنِهَا مِنْكُمْ فَاٰذُوْهُمَا ۚ

او هغه دواړه سړي چه راځي دي (قبيح كار ته) له تاسي نو ايذاء ورسوئ دوي ته!،

**تفسير:** يعني كه دوه تنه اعم له دي چه يو نارينه او بله ښځه وي يا كه دواړه نارينه وي. يا دواړه ښځي (من حيث السحق) وي. او د بد فعل مرتكب شي نو د هغوي سزا ئي مجملاً په ايذاء وركولو سره ارشاد وفرمايله. په ژبه سره وي، كه په خوله سره هومره چه مناسب وي د هغو د تأديب او تنبيه وركولو حكم شوي دي. له دي ځني معلوميږي چه تر هغه وخته پوري د «زنا» او د «لواطت» د دواړو حكم هم داسي ؤ. چه د حاكم او قاضي په نزد دي هغوي ته هومره سزا، شتم (كنځل)، ضرب (وهل) چه د زجر او عبرت له پاره مناسب وي وركړه شي. وروسته له هغه كله چه سم له وعدي سره د زنا حد نازل شو، نو د «لواطت» له پاره ئي كوم جلا (جدا) بيان ونه فرمايه. او په هغه كښي د عالمانو سره اختلاف دي چه د «لواطت» له پاره هم هغه حد مقرر دي چه د «زنا» له پاره تاكلي (مقرر) شوي دي يا د «لواطت» همغه سزا باقي پاتي ده چه پخوا وه يا د هغه سزا په توره يا په بله كومه طريقه سره وژل دي.

**(فائده)** : اكثر علماء دا آيت پر زنا محمولوي، او ځينو پر «لواطت» حمل كړي دي، او ځيني ئي پر دواړو باندي شامل ګڼي. (ځني وائي . «﴿وَالّٰتِيْ﴾ ـ ﴿مِنْ نِّسَآئِكُمْ﴾ ـ»په سحاقاتو او « ﴿وَالَّذٰنِ﴾ ـ ﴿مِنْكُمْ﴾ ـ» په لواطت كوونكو او ﴿اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ﴾ په زانيانو پوري مخصوص دي. نو په دغه تقدير پاس آيت نه دي منسوخ.)

# فَاِنْ تَابَا وَاَصْلَحَا فَاَعْرِضُوْا عَنْهُمَا ۗ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا ﴿١٦﴾

نو كه توبه ويستله دي دواړو او اصلاح كړ دواړو (عمل خپل) نو څنګ وكړئ تاسي له دي دواړو نه، بيشكه چه الله دي ښه توبه قبلوونكي (د ګنهګارانو) ډير رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره).

**تفسير:** يعني كه وروسته له دي نه دوي له بد كاري ځني توبه وكړي. او خپل راتلونكي عملونه ښه كړي نو تاسي د هغوي تعقيب پريږدئ!، او په زجر او ملامتولو سره ئي مه تنګوئ! او الله تعالیٰ د خپلو بندګانو د توبي قبلوونكي، او پر دوي باندي مهرباني كوونكي دي. او تاسي لره هم ښائي چه هم داسي وكړئ!

إِنَّمَا التَّوْبَةُ عَلَى اللَّهِ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ السُّوءَ بِجَهَالَةٍ ثُمَّ يَتُوبُونَ مِن قَرِيبٍ فَأُولَٰئِكَ يَتُوبُ اللَّهُ عَلَيْهِمْ ۗ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١٧﴾

بیشکه (قبلول د) توبې په الله (د وفاء له مخې ضروري شي) دی دپاره د هغو کسانو چه کوی دوی ناکاره په ناپوهۍ سره (په دې حال چه په شان د ناپوهانو وی) بیا توبه وباسی دوی په نژدې زمانه کښې (له موت نه په خوا) نو دغه کسان رجوع به کوی په رحمت سره الله په دوی باندی، او دی الله ښه عالم (په پټو او ښکاره ؤ) ښه حکمت والا (چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی)،

**تفسیر:** یعنی توبه خو بیشکه داسی شی دی چه په هغه سره د «زنا» او د «لواطت» په شان درانه جرمونه هم الله تعالیٰ معافوی لکه چه له پخوانی آیت څخه مفهوم شو. لیکن د دې خبری لحاظ هم ښائی هرومرو (خامخا) وکړو. الله تعالیٰ چه په خپل فضل او کرم سره د توبې د قبلولو وعده فرمایلی ده هغه اصلاً په هغو خلقو پوری مخصوصه ده چه په بی خبری او ناپوهۍ سره کومه کبیره یا صغیره گناه تری صادره شی مگر هر کله چه په خپلی خرابی باندی متنبه او مطلع شی نو سمدلاسه پښیمانه او توبه وکړی نو الله تعالیٰ داسی خطاوی خامخا (تفضلاً) ورمعافوی او پاک الله پر هر شی باندی پوهیږی او دا خبره ورته ښکاره ده چه کوم یوه په ناپوهۍ سره گناه کړی ده؟ او کوم یوه په اخلاص سره توبه ایستلی ده؟ او د حکمت څښتن (خاوند) دی د هر چا توبه چه سم له حکمته سره وی قبلوی ئې.

**(فائده)** د «جهالت» او د «قریب» له قیدونو معلومیږی، هر څوک چه د ناپوهۍ لامله (له وجې) گناه کوی او وروسته له تنبیه ژر توبه کوی نو (تفضلاً د عدالت او د حکمت له قاعدی سره سم د هغه د توبې مقبولیت ضروری دی او هر څوک چه په قصد او عمد سره د پاک الله له احکامو څخنی د غاړی غړولو جرئت وکړی، یا وروسته د خپلی گناه له پوهیدلو څخه په توبه ایستلو کښې تأخیر او په همغه پخوانی حالت باندی قیام او دوام کوی نو د عدل او انصاف له قاعدی سره سم د هغه خطا اصلاً د معافولو وړ (لائق) نه ده او د هغی قبلول یوازی د الله تعالیٰ فضل او کرم دی چه په خپلی مهربانی سره د دوی دواړو توبې قبلوی. دا خو د پاک الله احسان دی او (تفضلاً) ذمه واری فقط په اول صورت کښې ده او په نورو کښې نشته.

وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ السَّيِّئَاتِ حَتَّىٰ إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ إِنِّي تُبْتُ الْآنَ وَلَا الَّذِينَ يَمُوتُونَ

وَهُمْ كُفَّارٌ ۚ أُولَٰئِكَ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٨﴾

او نشته (وعده د قبول د) توبې له پاره د هغو کسانو چه کوي دوی گناهونه تر هغه پورې چه راحاضر شي يو د دوی ته (اسباب د) مرگ نو وائي چه بيشکه ما توبه ويسته اوس او نه (قبليدی شي توبه) دپاره د هغو کسانو چه دوی مره شي حال دا چه دوی کافران وي، دغه کسان (چه د کفر په حالت کښې مري، په عين غرغره کښې توبه کوي) تيار کړی دي مونږ دوی ته عذاب دردناک.

**تفسير:** يعنې د داسې خلقو توبه نه قبليږي چه پرله پسې گناه کوي او له گناه څخنې مخ نه اړوي. تر څو چه د مرگ علامې او اسباب په نظر ورشي نو په هغه وخت کښې وائي چه زه اوس توبه کوم. او نه د هغه توبه قبليږي چه د کفر په حالت کښې مر شي او وروسته د آخروي عذاب له ليدلو څخه توبه کوي د داسې خلقو له پاره شديد عذاب تيار دی.

**تنبيه :** دا دواړه آيتونه چه د توبې د قبول او د توبې د عدم قبول په نسبت دلته مذکور دی د دوی کوم مطلب چه مونږ پاس بيان کړ هغه د ځينو لويو محققينو له تحقيقاتو سره سم دی او په هغه کښې دا ښه والی دی چه د «جهالت» قيد او د «قريب» لفظ دواړه په خپلې ظاهرې معنی باندې قائم پاتې دي او د «على الله» معنی هم په سهولت سره جوړه شوه. او په دې موقع کښې د توبې د قبول او د عدم قبول د ذکر فرمايلو مقصد هم په ښه شان سره عيان شو يعنې د «کيف ما اتفق» توبه مقبوله نه ده او د توبې څو صورتونه دي او د دې په مقبوليت کښې هم فرقونه شته تر څو چه د توبې په اعتماد څوک پر گناهونو باندې جرئت ونه کړي. او دا مقصد هم په دې صورت سره ښه حاصليږي. مگر نورو مفسرينو حضراتو چه على العموم د دې آيتونو مطلب ئې ارشاد فرمايلی دی، د «جهالت» قيد ئې «احترازي» او «شرطي» قيد نه دی اخيستی بلکه (واقعي) قيد ئې گڼلی او وائي چه گناه تل له جهله او حماقته څرگنديږي او د «قريب» معنی داسې کوي چه د موت له راتللو څخه پخوا څومره وخت چه وي هغه گرد (ټول) ته «قريب» وايه شي ځکه چه د دنيا ژوندون قليل دی. نو په دې صورت کښې مطلب ئې داسې کيږي چه «الله تعالیٰ هغه وعده چه د توبې د قبلولو په نسبت فرمايلې ده له هغو سره ده چه د ناپوهۍ او د خپل پای او انجام د نه کتلو لامله (له وجې) گناه کوي او بيا د موت له راتگه څخه پخوا تائب کيږي او هغه کسان چه موت ئې ليدلی او د نزعې حالت ته رسيدلي دي يا هغه کسان چه کافران مره شوي دي نو د دوی توبه له سره نه قبليږي. له دې تقريره سره به سم د توبه کوونکو د هغو د دوو بين بين صورتونه چه په ړومبنی تقرير کښې مذکور شوي دي په اول شق (د توبې په قبول) کښې شميرل کيږي.

**(فائده)** . کله چه د موت يقين راشي او بل عالم په سترگو سره وکتلی شي

نو په هغه وخت کښې توبه نه قبلیږی. هوا د اخروی عالم له کتلو څخه پخوا توبه قبلیږی چه له رومبنی تفسیر سره په اول صورت کښې د توبې قبول د عدل او انصاف له قاعدې سره سم دی. او په نورو صورتونو کښې د توبې قبول یواځې د هغه په فضل او کرم سره دی

يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَرِثُوا النِّسَآءَ كَرْهًا ؕ وَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ لِتَذْهَبُوْا بِبَعْضِ مَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ۚ

ای هغو کسانو چه ایمان ئې راوړی دی (ای مؤمنانو!) نه دی حلال تاسې لره دا (کار) چه په میراث به اخلئ تاسې ښځې په زور سره، او مه منع کوئ تاسې دا (ښځې) له پاره د دې چه یوسئ (ترې واخلئ) تاسې ځینې د هغه مال چه ورکړی وی تاسې دوی ته (په مهر کښې) مګر چه راشی (وکاندی) دوی فاحشه (قبیح کار نشوز یا زنا) ښکاره،

**تفسیر:** په پخوانی بیان کښې ئې د ښځو د بد افعالو او د تأدیب او سمولو حکم ورکړی ؤ، اوس د اهل جاهلیت له هغه ظلم او تعدی څخه ممانعت فرمائی چه په ډول ډول (قسم قسم) صورتونو پر ښځو باندې اجرا کیدل د هغو صورتونو له منځه یو صورت دا هم ؤ. «کله چه به څوک مړ کیده نو د دې مړی ښځه به د علاتی زوی یا ورور یا د بل کوم وارث له لوری بندی ساتله کیده بیا به ئې که زړه غوښتل له هغې سره به ئې نکاح تړله. یا به ئې همغسې بې نکاح پخپل کور کښې ساتله او د هغې ټول مهر یا څه برخه بې ئې ترې اخیسته یا به ئې تر مرګه پورې هلته بندی ساتله، او د هغې د مال به وارث کیده» نو د دې په نسبت دا آیت نازل شو چه د هغه خلاصه دا ده. «کله چه څوک مړ شی نو د هغه ښځه د خپلې نکاح واک (اختیار) لرې د هغه مړی ورور یا بل کوم وارث لره دا اختیار نشته چه هغه ښځه په زور سره په خپله نکاح کښې راولی او نه هغه ښځه د بل چا له نکاح څخه منع کولی شی او هغه مجبوره کولی شی چه د خپل میړه (خاوند) له میراث څخنی کوم شی (چه هغې ته وررسیدلی وی) بیرته ورکړی. هوا که هغې کومه صریحه بدعملی وکړله نو له هغې بدعملی څخه د هغې ممانعت په کار دی.»

وَعَاشِرُوْهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ۚ فَاِنْ كَرِهْتُمُوْهُنَّ فَعَسٰٓى اَنْ تَكْرَهُوْا شَيْئًا وَّيَجْعَلَ اللّٰهُ فِيْهِ خَيْرًا كَثِيْرًا ﴿۱۹﴾

او گزران کوئ تاسی (ای میړو) له دی (ښځو) سره په نیکی طریقی سره!، پس که خوښی نه وی ستاسی دا ښځی نو (صبر وکړئ) ښائی چه نه به خوښوئ تاسی یو شی حال دا چه گرځولی به وی الله په دی شی کښی خیر ډیر.

**تفسیر:** یعنی له ښځو سره په خبرو او اترو (په افعالو او احوالو په نفقه او کسوت په مسکن او مأمن) او نورو معاملاتو کښی په ښو خویونو او ښه سلوک سره معامله وکړئ! د جاهلیت په شان (چه د ذلت او د سختی سلوک له ښځو سره کیده) له هغوی سره خراب سلوک مه کوئ! بیا که ستاسی د کومی ښځی کوم خصلت او خوی او عادت خوښ نه وی نو صبر وکړئ، کیږی چه په هغی کښی کومه فائده هم وی او ممکن دی چه تاسی ته کوم شی ښه نه درښکاری او الله تعالیٰ په هغه کښی ستاسی له پاره دینی یا دنیوی کومه گټه ایښی وی نو تاسی لره تحمل کول په کار دی. او له بد خوی سره بدخوئی نه ښائی چه وکړه شی.

وَإِنْ أَرَدتُّمُ ٱسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ زَوْجٍ وَءَاتَيْتُمْ إِحْدَىٰهُنَّ قِنطَارًا فَلَا تَأْخُذُوا۟ مِنْهُ شَيْـًٔا ۚ أَتَأْخُذُونَهُۥ بُهْتَٰنًا وَإِثْمًا مُّبِينًا ﴿٢٠﴾

او که اراده وکړه تاسی (ای میړونو) د بدلولو د یوی ښځی په ځای د بلی ښځی (چه یوه طلاقه او بله نکاح کړی!) حال دا چه ورکړی وی تاسی یوی ته د دوی ډیر مال (په مهر کښی هم) نو مه اخلئ تاسی (ای میړونو! بیرته) له هغه مال نه هیڅ شی آیا اخلئ به تاسی دغه (مال) په ناحقه (په دروغو بی موجبه) او په گناه ښکاره (ظلم ظاهر سره)

**تفسیر:** له اسلام څخه پخوا داسی هم کیده. کله چه به کوم میړه (خاوند) غوښتل چه خپله پخوانی ښځه پریږدی او له بلی کومی ښځی سره نکاح وتړی نو پر پخوانی ښځی باندی به ئی تهمت لگاوه او راز راز (قسم قسم) ظلم تیری او سختی به ئی راوستی تر څو هغه مجبوره شی او خپل مهر بیرته ورکړی چه میړه (خاوند) ئی هغه مهر په خپلی نوی نکاح کښی ولگوی. دا آیت د دی کار د ممانعت له پاره نازل شو چه مطلب ئی دا دی . «کله چه پخوانی ښځه پریږدئ!، او بله وکړئ! او پخوانی ښځی ته ډیر مال هم تاسی ورکړی وی نو اوس له هغی ښځی څخه هیڅ شی بیرته مه اخلئ! آیا تاسی په پلمه (تدبیر) او صریح بهتان سره له پخوانی ښځی څخه د هغه مال اخیستل هم غواړی چه ورکړی مو ؤ دا له سره جائز نه دی.»

وَكَيْفَ تَأْخُذُونَهٗ وَقَدْ اَفْضٰى بَعْضُكُمْ اِلٰى بَعْضٍ وَّاَخَذْنَ مِنْكُمْ مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا ﴿٢١﴾

او څرنګه به آخلئ تاسی هغه مال حال دا چه په تحقیق سره رسیدلی دی ځینی له تاسی ځینو (نورو) ته (په طریقه د مباشرت سره) او اخیستی دی (ښځو) له تاسی نه عهد کلک (د صحبت او ممازجت (قربت) په حق کښی)

**تفسیر:** یعنی کله چه نارینه او ښځه له نکاح څخه وروسته یو ځای شی او د ناستی ملاستی وار راشی نو د هغی په معاوضه کښی تول مهر ورکول پر میره (خاوند) باندی واجبیږی نو اوس میره (خاوند) هغه مهر له دی ځنی په کوم سبب اخیستی شی؟ او که ئی مهر نه وی ور رسولی نو د هغی مهر څرنګه معطلولی شی؟ اوس پرته (علاوه) له دی نه چه هغه مهر دا ښځه په خپله خوښه سره ورپریږدی د نجات او د ژغورنی(بچ کیدلو) بله کومه لاره نه ده پاتی. او دی ښځی ډیر مضبوط او کلک اقرار له تاسی ځنی اخیستی دی چه د هغه په سبب دوی ستاسی په قبضه او تصرف کښی راغلی دی. او تاسی له دوی ځنی په پوره ډول (طریقه) سره منتفع شوی یئ که نه تاسی پر دوی باندی د واک (قبضه) او تصرف اختیار په څه ډول (طریقه) بیاموندہ؟ اوس له هسی کاملی قبضی او تام تصرف څخه وروسته د ښځو مهر بیرته اخیستل یا د دوی مهر نه ورکول څرنګه روا کیدی شی؟

**(فائده) :** ښائی چه وپوهیږو لکه چه وروسته له مجامعته تول مهر د میره (خاوند) په غاړه لازمیږی هم داسی که مجامعت ته وار ونه رسیږی مګر صحیحه خلوت ئی ورسره کړی وی نو بیا هم پوره مهر واجب الاداء ګرځی. هو! که صحیحه خلوت ته هم وار نه وی رسیدلی او میره (خاوند) ئی طلاق ورکړی نو بیا د مسمی مهر نیمائی ورکول پری لازمیږی.

وَلَا تَنْكِحُوْا مَا نَكَحَ اٰبَآؤُكُمْ مِّنَ النِّسَآءِ اِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ ؕ اِنَّهٗ كَانَ فَاحِشَةً وَّمَقْتًا ؕ وَسَآءَ سَبِيْلًا ﴿٢٢﴾ ع

او مه اخلئ تاسی په نکاح سره هغه (ښځی) چه نکاح کړی دی پلرونو ستاسی له ښځو مګر هغه چه پخوا له دی تیری شوی دی، بیشکه چه دا (کار) دی فاحش (ډیر ناکاره) او ډیر مبغوض (شرعی ته)، او بده (ده دا) لاره (عرف ته).

**تفسیر:** د جاهلیت خلقو له خپلو میرو، میندو او نورو ځینو محرماتو سره هم نکاح کوله چه د هغی ذکر اوس تیر شو نو دلته له هسی نکاح ځنی هم ممانعت کاوه شی چه تاسی له هغو ښځو

سره چه ستاسی پلرونو نکاح ورسره ترلی وی نکاح مه ترئ! ځکه چه دا بیحیائی او د الله تعالیٰ د غضب سبب او ډیر منفور کار او ډیره بده طریقه ده او د جاهلیت په زمانه کښې هم پوهانو هغه مذموم ګڼله او هسی نکاح ته ئی د (مقت نکاح) او له دی نکاح څخه چه به کوم وړوکی پیدا کیده هغه ته به ئی «مقتی» ویل هسی نکاح هومره چه شوی دی، شوی دی وروسته له دی نه دی بیخی ونه کړه شی!

**(فائده)** . کوم حکم چه د پلار د منکوحی په نسبت دی په همغه حکم کښې د پلارنیو او مورنیو نیکونو منکوحی هم داخلی دی اګر که د ډیرو پورته نیکونو هم وی (زمونږ امام ابوحنیفه رحمة الله علیه وائی چه مراد له دی نکاح ځنی «وطی» ده یعنی مه «وطی» کوئ! هغی ښځی چه (وطی) کړی دی پلرونو ستاسی په نکاح یا په ملک یمین یا په زنا سره)

---

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهٰتُكُمْ وَبَنٰتُكُمْ وَأَخَوٰتُكُمْ وَعَمّٰتُكُمْ وَخٰلٰتُكُمْ وَبَنٰتُ الْأَخِ وَبَنٰتُ الْأُخْتِ

---

حرامی کړی شوی دی پر تاسی میندی ستاسی او لونی ستاسی او (حرامی شوی دی پر تاسی) خویندی ستاسی او عمی (ترورییانی) ستاسی او خالی (توریانی) ستاسی او لونی د ورور (وریری ستاسی) او لونی د خور (خورځی ستاسی).

---

**تفسیر:** د میری د نکاح د حرمت له بیانولو نه وروسته اوس د هغو ګردو (تولو) ښځو بیان کوی چه له هغوی سره نکاح ترل جائز نه دی او دا ښځی (١٤) قسمه دی. ٧ نسبی ٧ سببی.

(١) . د هغو بیان کاوه شی چه د نسب د علاقی له سببه حرامی دی او هغه اوه دی.

(١) مور (٢) خور (٣) لور (٤) ترور (٥) توری (٦) وریره (٧) خورځه چه له دوی ځنی له هیڅ یوی سره نکاح ترل جائز نه دی (او حرمت ئی ابدی دی).

**(فائده)** : د مور تر حکم لاندی مورنی نیاګانی ترآخره پوری ګردی (تولی) داخلی دی. هم داسی د لور تر حکم لاندی لمسی، کروسی تر آخره پوری تولی داخلی دی. او په خور کښې عینی (سکه چه مور او پلار ئی یو وی) علاتی (چه پلار ئی یو او مور ئی بیله بیله وی) او اخیافی (چه پلار ئی بیل بیل وی مور ئی یوه وی) ګردی (تولی) داخلی دی او په ترور (عمی) کښې د پلرونو نیکونو، خویندی تر پورتنیو پیړیو پوری عینی وی که علاتی یا اخیافی ګردی (تولی) داخلی دی او په توری (خالی) کښې د مور نیا، د نیا نیا او د ګردو (تولو) خویندی سره له دری واړو قسمونو داخلی دی. او په وریره کښې. د دری قسمونو ورونو اولاد، اولاد الاولاد ګرد (تول) داخل دی. او په خورځه کښې د دری قسمه خویندی اولاد، اولادالاولاد

ګرد (تول) سره داخل دی.

وَأُمَّهَٰتُكُمُ ٱلَّٰتِيٓ أَرۡضَعۡنَكُمۡ وَأَخَوَٰتُكُم مِّنَ ٱلرَّضَٰعَةِ

او (حرامی کړی شوی دی پر تاسی) میندی ستاسی هغه چه تی ئی درکړی وی تاسی ته او خویندی ستاسی له جهته د تی رودلو،

**تفسیر:** . په «نسبی» محرماتو پسی اوس د «رضاعی» محرماتو ذکر کیږی او هغه دوه دی. (۱) . رضاعی مور. (۲) . رضاعی خور. او په دی کښی اشاره ده چه اوه واړه خپلوی چه په نسبت کښی سره بیان شوی په رضاعت کښی هم حرامی دی. یعنی رضاعی لور، ترور، توړی وریره او خورځه، ګردی (تولی) سره محرماتی دی لکه چه په احادیثو کښی دا حکم شته.

وَأُمَّهَٰتُ نِسَآئِكُمۡ وَرَبَٰٓئِبُكُمُ ٱلَّٰتِي فِي حُجُورِكُم مِّن نِّسَآئِكُمُ ٱلَّٰتِي
دَخَلۡتُم بِهِنَّ فَإِن لَّمۡ تَكُونُواْ دَخَلۡتُم بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ
وَحَلَٰٓئِلُ أَبۡنَآئِكُمُ ٱلَّذِينَ مِنۡ أَصۡلَٰبِكُمۡ وَأَن تَجۡمَعُواْ بَيۡنَ
ٱلۡأُخۡتَيۡنِ إِلَّا مَا قَدۡ سَلَفَۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ﴿٢٣﴾

او (حرامی کړی شوی دی پر تاسی) میندی د ښځو ستاسی او پرکتیانی ستاسی هغه چه په غیږو ستاسی کښی (ئی تربیت موندلی او پیدا شوی) دی له ښځو ستاسی هغه چه دخول (مجامعت) کړی وی تاسی له دوی سره پس که نه وئ تاسی چه دخول (مجامحت) کړی دی تاسی له دوی سره نو نشته هیڅ ګناه پر تاسی باندی (په نکاح) د پرکتیو کښی (او حرامی کړی شوی دی پر تاسی) ښځی د ځامنو ستاسی هغه چه له شاګانو ستاسی (پیدا) دی، او (حرامی کړی شوی دی پر تاسی دغه) چه جمع وکړئ په منځ د دوه ؤ خویندو کښی مګر هغه چه تحقیق پخوا تیری شوی دی، بیشکه چه الله دی ښه مغفرت کوونکی (د خطیاتو) ډیر رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره).

**تفسیر** : اوس د «مصاهری» د محرماتو ذکر دی. یعنی د نکاح د علاقی له سببه چه له چا سره

نکاح حرامیږی. او هغه په دوه قسمه ده.
(اول) هغه چه له دی سره د تل له پاره نکاح ناجائزه ده هغه د زوجی مور او د دی زوجی لور ده چه د هغی له موره سره تاسی جماع کړی وی، لیکن که د جماع او د جماع دواعی (لکه لمس) نه پخوا کومی ښځی دی. او په دوی کښی تر لاندی پوری د لمسی او کړوسی ښځی هم داخلیږی او له دوی سره ستاسی نکاح له سره روا نه ده.
(دوهم) قسم هغه ده چه له دوی سره تل د نکاح ممانعت نه وی، بلکه تر هغه پوری چه کومه ښځه ستاسی په نکاح کښی وی، تر هغه پوری د دی ښځی نورو خپلوانو ښځو سره د نکاح ممانعت وی. خو کله چه هغی ښځی ته طلاق ورکړئ! یا مره شی، نو بیا له هغو سره به مو نکاح ترل روا کیږی، او دغه د هغی زوجی خور ده چه د زوجی په شتوالی کښی له هغی سره نکاح نه ده روا۔ او وروسته له هغی ورسره نکاح جائزه ده او هم داسی د زوجی د عمی، خالی وریری او خورځی حکم هم دی.
**(فائده)** : دا ئی چه وفرمایل ښځی ستاسی د هغو ځامنو چه ستاسی له شاګانو وی، د هغه مطلب دا دی . چه ستاسی ځامن یا لمسی نسبی وی نه د خولی، یعنی تش ستاسی په غیږو کښی لوی شوی نه وی، چه هغه ته «متبنّٰی» وائی او له «رضاعی» ځنی احتراز نه دی. او د (الاما قد سلف) مطلب دا دی چه د جاهلیت په زمانه کښی او له دی حکم څخه پخوا هغه اجتماع چه د دوه ؤ خویندو په منځ کښی شوی ده، هغه معاف ده، او د «فی حجورکم» له فرمایلو ځنی دا مطلب دی «هغه چه تاسی ئی پخپلو غیږی کښی روزنه او پالنه کوئ یعنی د اولاد په شان له هغوی سره معامله کوئ!» ګواکی د زړه له کومی ئی اولاد ګڼئ!. له دی ځنی د دوی د نکاح حرمت لا ښکاره شو او دا مطلب نه دی چه د هغوی د حرمت له پاره د هغوی پالل او روزل په غیږ کښی ضروری دی.

وَّالْمُحْصَنٰتُ مِنَ النِّسَآءِ اِلَّا مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ ۚ كِتٰبَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ ۚ

او (حرامي کړی شوی دی پر تاسي) ميرمني (منکوحی) له ښځو مګر هغه (ميرمني ـ منکوحی) چه مالکان شوی دی (د هغو) ښي لاسونه ستاسي، فرض کړی دی الله پر تاسي (تحريم د دی پورته محرماتو، يا) ښي لاسونه ستاسي، (مقرر کيدل د دی حکم په) کتاب د الله کښي دی پر تاسي باندی، (چه پاس مذکور دی)

**تفسير:** د محرماتو ذکر کولو څخه وروسته اوس د هغو ښځو د حرمت بيان فرمايي چه د بل چا په نکاح کښي وی يعني هغه ښځه چه د بل چا په نکاح کښي وی د هغی نکاح له بل سره نه روا کيږی. تر څو چه هغه په طلاق يا وفات له خپل ميره (خاوند) جلا (جدا) او د طلاق يا د موت عدت ئی پوره نشی نو تر دی وخته پوری هيڅوک له دی سره خپله نکاح نشی ترلی، که کومه ميرمنه (منکوحه) ښځه ستاسي په «**ملک اليمين**» کښي راشی، نو هغه له دی حکم څخه مستثنٰی او پر تاسي باندی روا ده، اګر که ميره (خاوند) ئی ژوندی هم وی او دی ته ئی طلاق هم نه وی ورکړی او صورت ئی دا دی چه يو کافر نارينه له يوی کافری ښځی سره نکاح ترلی وی او مسلمانان پر «**دارالحرب**» باندی يرغل (حمله) وروړی او هغه ميرمنه (منکوحه) ښځه اسيره کړی او «**دارالاسلام**» ته ئی راولی، نو دا ښځه چه د هر مسلمان په لاس ورغلی وی هغه ته حلاله ده اګر که د هغی ميره (خاوند) په «**دارالحرب**» کښي ژوندی موجود وی او خپلی دی ښځی ته ئی طلاق هم نه وی ورکړی د ګردو (ټولو) محرماتو له بيانولو څخه وروسته تاکيد فرمايي چه دا د الله جل جلاله حکم دی، د هغه منل پر تاسي باندی لازم دی. (کتب الله محذوف فعل مصدر دی. يعني کتب الله عليکم حرمة هذه المحرمات ليکلی دی الله حرمت د دغو محرماتو پر تاسي باندی په ليکلو سره. او تقدير ئی کړی په تقدير کولو سره).

**(فائده):** هغه کافره ښځه چه په «**دارالحرب**» کښي نيولی شوی وی، د هغی د حلاليدو له پاره دا ضروری ده چه يو «**حيض**» پری تير شي او دا ښځه مشرکه او بت پرسته هم نه وی بلکه له اهل د کتابو څخه وی.

وَاُحِلَّ لَكُمْ مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ اَنْ تَبْتَغُوْا بِاَمْوَالِكُمْ مُّحْصِنِيْنَ غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ ؕ

او حلالې کړې شوې دي تاسې ته (ګردې (تولې) ښځې) چه پرته (علاوه) له دوی ښځه دي (په دې شرط) چه طلب وکړئ تاسې (د هغو) په مالونو خپلو (چه مهر دی) په دې حال کښې چه ساتونکې شې. (د خپل دین په نکاح سره) نه زنا کوونکې

**تفسیر:** یعنې بې له هغو (١٥) اقسامو ښځو ښځه چه د دوی د حرمت بیان وشو نورې ګردې (تولې) ښځې په څلورو شرطونو حلالې دي.

(١): دا چه طلب ئې کړئ! یعنې په ژبې سره «ایجاب» او «قبول» د دواړو له خوا وشي.

(٢): دا چه مهر ورکول ومنئ!.

(٣): دا چه د هغې ښځې پخپل واک (اختیار) کښې راوړل او په قید او قبضه کښې ساتل مقصود وي او تش ورسره چړچې (مزې) کول او شهوت پرستي مقصود نه وي لکه چه په زنا کښې وي. یعنې د همیشه له پاره هغه د ده ارتینه (ښځه) شي، او بې له پرېښودلو او طلاقولو له خپل میړه (خاوند) ښځه بېلیدلې نشي، مطلب دا چه کومه موده نه وي مقرر شوې. نو له دې ځنې د «متعه» حرمت ښکاره شو چه د حق د خاوندانو پرې اجماع ده.

(٤): شرط چه په نورو آیتونو کښې مذکور دی دا چه په مخفي ډول (طریقه) سره دوستي نه وي یعنې لږ تر لږه دوه نارینه یا یو نارینه او دوې ښځې د دې نکاح په معامله کښې شاهدان وي. که بې له شاهدانو ایجاب او قبول وشي نو هغه نکاح نه صحیحه کیږي او زنا بلله شي.

فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهٖ مِنْهُنَّ فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ فَرِيْضَةًؕ

پس هر هغه ښځه چه نفع واخیسته تاسې په هغې سره له دې (منکوحو ښځو) ښځو نو ورکړئ تاسې دوی ته مهرونه د دوی په دې حال کښې چه فرض کړې شوي دي.

**تفسیر:** یعنې له هغې ښځې سره چه نکاح وتړله شوه او میړه (خاوند) له هغې ښځه تر لږې یا ډېرې تاکلې (مقرر) مودې پورې نفع هم واخیسته یا لږ تر لږه یو ځلې «وطي» یا صحیحه خلوت ته وار ورسید، نو د دې ښځې پوره مهر ورکول لازمیږي. ترڅو چه هغه ښځه خپل مهر ور ونه بښي، نو په هیڅ ډول (طریقه) هغه د ده له غاړې ښځه نه خلاصیږي. که ښځه بېخي په کار ورنشي او پخوا له صحیحه خلوت میړه (خاوند) ئې طلاق ورکړي نو د مقرر مهر نیمایي پرې لازمیږي. که ښځه پخوا له انتفاع ښځه کومه هسې خبره وکړي چه په هغې سره ئې نکاح ماته شي نو د میړه (خاوند) له غاړې ښځه ګرد (تول) مهر خلاصیږي او هیڅ شی پرې نه لازمیږي.

وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا تَرَاضَيْتُم بِهِ مِن بَعْدِ الْفَرِيضَةِ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿٢٤﴾

او نشته گناه پر تاسی باندی (ای میړونو (خاوندانو) او ښځو!) په هغه شي کښې چه راضي شوی یئ تاسی په هغه باندی پس له مقررولو (د مهر) بیشکه چه الله دی ښه عالم (په پټو او ښکارو) ډیر حکمت والا (چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی).

**تفسیر:** یعنی که زوجین د مهر له مقررولو څخه وروسته پر کومه خبره باندی سره راضي شول. مثلاً ښځه په خپله خوښه له مهر ځنی څه شي لږ کړی. یا نارینه پخپله رضاء سره له مقرر مهر څخه څه زیات ورکړی. نو مختار دی او په دی کښې هیڅ وبال نشته. او داسی دی ونه کړی چه له مقرر مهر څخه میړه (خاوند) څه شي لږ کړی! یا ارتینه (ښځه) له هغه څخه څه زیات شي وغواړی. هو! د دواړو خواؤ رضاء شرط ده. (یا دا معنی چه د نفقی، صحبت مفارقت او نورو په کیفیت کښې په هر شان چه بیا سره راضي شول). په آخره کښې ئی وفرمایل چه الله تعالیٰ ته ستاسی گرد (تول) مصالح او هر راز (قسم) نفع او نقصان ښه معلوم دی او هر حکم چه فرمایی هغه بیخی له گټی او حکمت څخه ډک وی د هغه په متابعت کښې ستاسی د دارینو منافع او ښیگڼی (فائده) او په مخالفت کښې ئی ستاسی نقصان او تاوان دی.

وَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنكُمْ طَوْلًا أَن يَنكِحَ الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ
فَمِن مَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُم مِّن فَتَيَاتِكُمُ الْمُؤْمِنَاتِ ۚ

او هغه څوک چه توان نه لری له تاسی له جهته د غناء د دی چه په نکاح واخلی اصیلی مؤمنی ښځی نو (په نکاح دی واخلی) له هغو ښځو چه مالکان شوی دی (د هغو) ښی لاسونه ستاسی له (هغو) وینځو ستاسی چه مؤمنی وی

**تفسیر:** یعنی هغه څوک چه د دی خبری قدرت نه لری چه له آزادی ښځی سره خپله نکاح وتړی او د هغی د مهر او د نفقی تحمل وکړی شی، نو داسی سړی لره دا بهتره ده چه له کومی داسی مسلمانی وینځی سره خپله نکاح وتړی چه د هغی مهر لږ او نفقه ئی هم آسانه وی. او که مالک ئی په خپل کور کښې وساتی (لکه چه اکثر ئی ساتی هم) نو میره (خاوند) ئی د هغی له نفقی

شخه فارغ البال گرځی. او که میره (خاوند) ته ئی ور وسپاری، نو بیا هم د اصیلی د نفقی په نسبت د دی وینځی په نفقه کښی خامخا تخفیف شته.

**(فائده):** هر سړی چه د اصیلی ښځی د نکاح کولو توان لری نو ده لره د امام شافعی رحمة الله علیه او نورو په نزد له وینځی سره نکاح ترل حرام دی. او زمونږ د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په مذهب کښی هسی نکاح «تنزیهی کراهت» لری او د داسی نکاح د صحت له پاره د وینځی مسلمانی د اکثرو علماؤ په نزد ضروری ده او زمونږ د حنفیانو په مذهب افضله ده. که له کتابی وینځی سره نکاح وکړی نو هغه هم د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په نزد روا ده. هو! که د چا په نکاح کښی اصیله ښځه وی نو ده لره له وینځی سره نکاح ترل! د گردو (تولو) په نزد حرام دی.

---

## وَاللّٰهُ اَعۡلَمُ بِاِيۡمَانِكُمۡ‌ؕ بَعۡضُكُمۡ مِّنۡۢ بَعۡضٍ‌ۚ

او الله ته ښه معلوم دی ایمان ستاسی ځینی ستاسی له ځینو نورو یئ! (یعنی گرد(تول) د یوه پلار آدم اولاده یئ!)

---

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ ته ستاسی د تولو د ایمان اصلی کیفیت معلوم دی. تاسی لره ښائی چه په ښکاره باندی اکتفاء وکړئ! د ځینو وینځو ایمان د الله تعالیٰ په نزد د ځینو آزادو (خپلواکو) ښځو له ایمان څخنی بهتر او افضل کیدی شی. نو د ایمان له حیثیته د وینځی په نکاح کولو کښی نه ښائی چه څه انکار وکړی ځکه تاسی په خپلو منځونو کښی گرد (تول) سره یو او له یوه اصله پیدا شوی یئ! او په یوه دین کښی سره شریکان یئ! نو بیا له وینځو سره نکاح ترل ولی عیب او ننگ او عار گڼئ؟ په دی کلام سره د وینځو د نکاح په لوری توجه ورکول او له دوی څخنی د نفرت د احساس لری کول مطلوب دی.

---

## فَانۡكِحُوۡهُنَّ بِاِذۡنِ اَهۡلِهِنَّ وَاٰتُوۡهُنَّ اُجُوۡرَهُنَّ بِالۡمَعۡرُوۡفِ مُحۡصَنٰتٍ غَيۡرَ مُسٰفِحٰتٍ وَّلَا مُتَّخِذٰتِ اَخۡدَانٍ‌ۚ

نو په نکاح واخلئ (د بل چا) وینځی په اذن د خاوندانو د دوی او ورکړئ تاسی دوی ته مهرونه د دوی په معروف (سم له دستوره په نیکه وجه) سره چه وی دوی عفیفی ساتلی شوی له زنا چه نه وی زنا کوونکی په ښکاره او نه وی نیوونکی د پټو یارانو،

**تفسیر:** یعني اوس مناسب دی چه له پورتنی بیانه سره سم له هغو وینځو سره نکاح وتړئ! او د دوی له مالکانو څخه اجازه واخلئ! او سم له دود (رواج) او دستوره د هغوی مهرونه په ښه وجه سره ورکړئ! چه څه معطلی، تنگی او خفگان پکښې نه وی او غدر او نقصان په کښې رانشی. او کله چه د دوی په خوښې سره دا وینځې د نکاح په قید کښې راشی نو دا وینځې دی پټې یاری نه کوی! یعني زنا دی نه کوی! چه په هغه کښې مهر له سره نه لازمیږی.
له دی ځایه راښکاره شوه چه په زنا کښې مهر نه لازمیږی او د نکاح له پاره شاهدان ضروری دی.

فَإِذَآ أُحۡصِنَّ فَإِنۡ أَتَيۡنَ بِفَٰحِشَةٍ فَعَلَيۡهِنَّ نِصۡفُ مَا عَلَى ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ مِنَ ٱلۡعَذَابِ

نو کله چه میروښې (منکوحه) (واده) کړی شوی دوی پس که راتله وکړه دوی په فاحشه (زنا) سره نو دی په دوی باندی نصف (نیم) د هغه چه په اصیلو ښځو باندی دی له عذابه (له حده چه پنځوس دری دی)؛

**تفسیر:** یعني هر هغه آزاد نارینه یا ښځه چه له نکاح څخنی ئی فائده اخیستی وی، یعني روا مجامعت ئی کړی وی او بیا زنا وکړی نو دا زانی دی سنگسار او په کتو سره دی وویشتلی شی! او که نکاح ئی نه وی شوی او پخوا له نکاح څخه ئی زنا وکړه، نو د هغه له پاره حکم دی چه یو سل دری دی وواهه شی. او مریی او وینځې له پاره مخ کښې او وروسته له نکاح څخه په هر حالت کښې یواځې د پنځوسو درو وهلو حکم شته او بس.

ذَٰلِكَ لِمَنۡ خَشِيَ ٱلۡعَنَتَ مِنكُمۡۚ وَأَن تَصۡبِرُواْ خَيۡرٞ لَّكُمۡۗ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٢٥

دا (په نکاح اخیستل د وینځو) دپاره د هغه چا دی چه ویریږی له ضرره (چه زنا ده) له تاسی نه او دا چه صبر وکړئ تاسی (له وینځو) خیر (غوره) دی تاسی ته او الله ښه مغفرت کوونکی دی (د خطیاتو) دیر رحم والا.

**تفسیر:** یعني په تاسی کښې له وینځو سره د نکاح کولو ارشاد او استحسان د هغه سړی په حق کښې دی چه له مشقت تکلیف او ضرره یعني د زنا له اخته کیدلو ویریږی که تاسی صبر وکړئ!

او له وينځو سره نکاح ونه کړئ! نو دا ستاسي په حق کښې.دیره ښه ده. ځکه چه ستاسي اولاد به آزاد وي. هو! له هر چا سره چه څه اندیښنه وي چه صبر او تحمل به ونه شي کولي نو هغه ته دا بهتره ده چه په هسې حالت کښې کومې وينځې سره خپله نکاح وتړي. او الله ښه بښونکې دی له پاره د صبر کوونکو.

يُرِيدُ اللَّهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ وَيَهْدِيَكُمْ سُنَنَ الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ وَيَتُوبَ عَلَيْكُمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٢٦﴾

اراده لري الله چه بیان کړي تاسي ته (شرعي احکام) او وښیي تاسي ته لاره د هغو کسانو چه پخوا له تاسي وو (له انبیاؤ او بوځې تاسي په همغه سمه صافه لاره) او رجوع وکړي په رحمت سره پر تاسي باندي او الله ښه عالم دی (په پټو او ښکاره ؤ) ښه حکمت والا (چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوي).

**تفسیر:** یعني د الله تعالیٰ اراده د دې احکامو له ارشاد څخه هم دا ده، چه تاسي ته د حلالو او حرامو حال معلوم شي او د پخوانیو انبیاؤ لاره در په برخه شي لکه حضرت ابراهیم علیه السلام او نور. او مغفرت ستاسي په برخه کړي. او الله جل جلاله ته ستاسي مصالح او نور ګرد ((تول) حالات پوره ځرګند دي. او د الله جل جلاله په هر حکم او په هر تدبیر کښې حکمت دي. که اوس د هغه د حکم اطاعت ونه کړئ! نو له هدایت څخه محرومیږئ! او د پخوانیو پیغمبرانو له سننو څخه هم مخالفت کوئ! او د الله تعالیٰ له رحمت او مغفرت نه هم بې برخې کیږئ! (نو ځکه تاسي ته بیانوي هغه چه مخفي ؤ له تاسي نه چه هغه د وینځو احکام او حقوق، د محرماتو حدود، د مباحو د اکتساب قیود، اخروي وعد او وعید او د دنیوي ژوند د اصلاحاتو تحدید دي څو چه تاسي ته د هغو انبیاؤ او صالحانو لاره دروښیي چه پخوا له تاسي نه تیر شوي دي او تاسي هغوی پسي اقتداء وکړئ! او د هغوی په اهتداء سره اعتلاء وموموئ ځکه چه تقویٰ او د ارحامو صله او په حلالو اشتغال او له حرامو احتراز، او د مبین دین التزام، او په شرعي احکامو اعتصام هر سړی مأجور او فائزالمرام ګرځوي. **اللهم ارزقنا الهداية والحلال وقنا الضلالة والنكال**)

**(فائده):** پخوا له دې نه د زنا او لواطت حرمت او له هغو څخه توبه کول او د ښځو په نسبت ځینې احکام او د هغو ښځو بیان وشو چه له دوی سره نکاح تړل حرام دي او د نکاح او مهر او د نورو په نسبت د قیودو او د شرائطو یادونه او د بدکارۍ ځنې ممانعت او د هغو د سزا ذکر ؤ ځرنګه چه د څو وجوهو لامله (له وجې) د دې احکامو اطاعت سخت ؤ، نو ځکه ئې په دې آیت

او په راتلونکو دوو آیتونو کښې د دی احکامو منل او تعمیل ښه مؤکد او لا مستحکم کړل او له مخالفت څخه ئی ممانعت وفرمایه. والله اعلم.

وَاللّٰهُ يُرِيدُ أَنْ يَّتُوبَ عَلَيْكُمْ وَيُرِيدُ الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الشَّهَوٰتِ أَنْ تَمِيلُوا مَيْلًا عَظِيمًا ﴿٢٧﴾

او الله اراده لری چه رجوع وکړی په رحمت سره پر تاسی باندی. او اراده لری هغه کسان چه متابعت کوی د شهواتو (د نفس د آرزوګانو) د دی چه کاږه شئ تاسی (د حق له لاری څخه) په کږیدلو ډیرو لویو او لری سره.

**تفسیر:** یعنی دا مختلف قیود چه پخوا له دی نه تیر شول له هغو څخه پر تاسی باندی رحمت فرمایل مطلوب دی. نو ځکه الله تعالیٰ د دی قیودو په نسبت حکم وفرمایه او هغه کسان چه په خپلو شهواتو کښې اخته دی دا غواړی چه تاسی له سمی لاری لری ولویږئ! یعنی د هغوی په شان تاسی هم د خپلو شهواتو اتباع وکړئ! او ګمراهان شئ! نو اوس هر څه چه کوئ، ښائی چه په پوره عقل او فکر او پوهی سره ئی وکړئ!.

يُرِيدُ اللّٰهُ أَنْ يُّخَفِّفَ عَنْكُمْ ۚ وَخُلِقَ الْإِنْسَانُ ضَعِيفًا ﴿٢٨﴾

اراده لری الله د دی چه سپک کړی (بار) له تاسی نه، او پیدا کړی شوی دی انسان ضعیف (کمزوری چه د درونډ بار طاقت نه لری).

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ انسان ضعیف پیدا کړی دی او الله تعالیٰ ته ښه معلومه ده، چه انسان له خپلو شهواتو او مرغوباتو څخه تر کومه ځایه پوری صبر کولی شی او له هغه څخه زیات صبر نشی کولی نو ځکه ئی په هر حکم کښې د تخفیف لحاظ هم فرمایلی دی. داسی نه ده چه هر هغه شی چه د انسان له پاره مفید لیدل شوی دی. همغه ئی ورپه غاړه کړی دی. سخت وی که آسان. مثلاً له ښځو څخنی ځان ساتل او له شهوت نه صبر کول د انسان له پاره ډیر سخت ؤ، نو ځکه الله تعالیٰ جل وعلیٰ شانه د ده د خواهش د پوره کولو له پاره جائزی طریقی ور وښوولی، چه په هغو سره خپل مطلب حاصل کړی شی او داسی ئی نه دی فرمایلی چه انسان د شهوت له سر ته رسولو څخه بیخی منع کړی شوی دی حق تعالیٰ په خپل رحمت سره په شریعت کښې تنګی نه ده فرمایلی چه خلق حلال پرېږدی، او د حرامو په لوری وځغلی. د دی آیتونو خلاصه داسی راووته چه «له شهواتو څخنی د نفس ساتل ـ او د دی ګردو (ټولو) قیودو منل چه د ښځو په

باره کښې مذکور شول، له سره دروند او سخت امر نه دی. او د هغو تعمیل خورا (ډیر) ضروری او بیخی مفید دی.»

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُم بَيْنَكُم بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَن تَكُونَ تِجَارَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُمْ ۚ

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو!) مه خورئ تاسی! مالونه د یو بل په منځونو خپلو کښې په ناروا سره! مګر (خورئ یی) که وی دا (مالونه چه خورئ ئی اموال د) تجارت (چه صادروی) په خوښی سره له تاسو نه.

**تفسیر:** مطلب دا دی چه هیڅا لره د هیچا مال په ناحقه سره خوړل مثلاً په رشوت، دروغ ویلو، تګی او غلا کولو (یا په قمار یا په غصب یا په ناحقه دعوی یا په فاسدو عقودو او نورو) سره بیخی روا نه دی. هو! که سوداګری یا بیع او شری د جانبینو په خوښی سره وشی نو په دی کښی هیڅ حرج نشته او له دی مال څخنی وخورئ! چه د هغه خلاصه داسی شوه «په جائزه طریقه سره له مال اخیستلو څخه هیڅ ممانعت نشته چه د هغه مال ترک کول په تاسی باندی دروند وی. (ځینی وائی چه مقصود له دی نهیی په هغه څه کښی د مال له صرفولو څخه منعه ده چه د الله تعالیٰ رضاء په کښی نه وی، او په تجارت سره ئی صرفول دا دی چه په لاره د الله تعالیٰ او په رضاء د الله تعالیٰ کښی وی.)

وَلَا تَقْتُلُوا أَنفُسَكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا ﴿٢٩﴾

او مه وژنئ تاسی سره ځانونه خپل (یعنی یو بل یا مه کوئ تاسی هغه کار چه ستاسی د هلاک سبب وی) بیشکه چه الله دی پر تاسی باندی ډیر مهربان (د اجر او ثواب په انعام سره).

**تفسیر:** یعنی پخپلو منځونو کښی یو له بله سره مه وژنئ بیشکه چه الله تعالیٰ پر تاسی باندی ډیر مهربان دی چه د بل چا په مال او ځان باندی له بی سببه تصرف کولو څخه ئی منع فرمایلی ده، او تاسی ته ئی داسی احکام درلیږلی دی چه په هغو کښی بیخی ستاسی ښیګڼه (فایده) او خیر دی.

وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ عُدْوَانًا وَّظُلْمًا فَسَوْفَ نُصْلِيْهِ نَارًا ۭ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿۳۰﴾

او هر څوک چه وکړی دغه (تیر منهیات) په تیریدلو سره له حقه او په ظلم (تعدی) سره نو ژر به مونږ داخل کړو دی اور (د دوزخ) ته او دی دا (د دوزخ اور ته د دوی ننه ایستل) پر الله باندی ډیر آسان.

**تفسیر:** یعنی هر څوک چه له ظلمه او تیری څخه لاس نه اخلی بلکه په ناحقه سره د نورو مالونه خوری یا په ظلم سره بل څوک وژنی نو د ده د هستوګنی ځای دوزخ دی، او د هسی ظالمانو په اور کښی اچول الله تعالیٰ ته څه سختی نه لری بلکه بیخی سهل او آسان دی نو اوس دی څوک داسی ګومان نه کوی چه مونږ خو مسلمانان یو نو څرنګه به په دوزخ کښی لویږو؟ الله تعالیٰ مالک او مختار دی او هیڅوک دی له عدل او انصاف څخنی نشی اړولی.

اِنْ تَجْتَنِبُوْا كَبَآئِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَنُدْخِلْكُمْ مُّدْخَلًا كَرِيْمًا ﴿۳۱﴾

که ځان وساتئ تاسی له لویو د (هغو) ګناهونو څخه چه منع کولی شئ تاسی له هغو نه نو لری به کړو مونږ له تاسی نه (صغیره) ګناهونه ستاسی او ننه به باسو مونږ تاسی په ځای د ننوتلو ډیر ښه کښی (چه جنت دی).

**تفسیر:** په پخوانی آیت کښی مذکور ؤ هر هغه څوک چه په ظلم سره د بل چا ځان یا مال ته نقصان ورسوی نو د هغه سزا جهنم دی. له دی څخه معلومه شوه چه د الله تعالیٰ څخه نافرمانی د بندګانو له پاره د عذاب موجب دی. اوس په دی آیت کښی له ګناهونو څخنی د ژغورنی (بچ کیدو) ترغیب او د ګناهونو په اجتناب باندی د مغفرت وعده او د جنت توقع او طمع ورکوله کیږی چه د هغی په پوهیدلو سره هر سړی زیار (محنت) وکاږی چه له ګناهونو څخنی ځان وژغوری (وساتی) او ورمعلوم شی چه هغه څوک چه له کبیره ؤ ګناهونو څخه ځان وساتی چه د هغو ذکر اوس تیر شو (لکه رشوت د بل چا د مال غصب، سرقه، په ظلم سره د بل چا وژل او نور) نو د هغه به ګرد (تول) هغه صغیره معاصی ښښل کیږی چه د هغوی ارتکاب د وژلو او د غلاؤ او د نورو د تحصیل او تکمیل له پاره شوی ؤ. په دی آیت کښی څو خبری بحث طلبی

دی. مګر د ګردو (تولو) اصل هم دا دی چه د دی آیت عمده او اصلی مطلب معلوم شی تر څو په هغه سره د ګردو (تولو) امورو پوهیدل آسان شی.

«معتزله» او د دوی نور ملګری په سرسری ډول (طریقه) سره د دی آیت په مضمون باندی داسی پوهیدلی دی، «که له کبیره ؤ ګناهونو څنی ځان وژغورئ (وساتی)! یعنی یوه کبیره ګناه هم ونه کړئ! نو بیا یواځی صغیره ګناه هرڅومره وکړئ! هغه به ضرور دربښل کیږی. او که له صغائرو سره کبیره هم **(کیف ما اتفق)** یوه یا دوه شاملی شی نو بیا ئی معافی ممکنه نه ده. بلکه د ګردو (تولو) سزاوی هرومرو (خامخا) دررسیږی.»

«اهل السنت» وایی چه «په دی دواړو صورتونو کښی الله تعالیٰ ته د معافی او مؤاخذی اختیار بیخی محقق دی.» نو په اول صورت کښی د معافی لزوم او په بل صورت کښی د مؤاخذی وجوب د معتزله ؤ بدفهمی او ناپوهی ده او د دی آیت د ښکاره ؤ الفاظو او ظاهری مضمون څخه چه د معتزله ؤ مذهب راجح په نظر راځی د هغه ځواب چا داسی ورکړی دی «د شرط له انتفاء څنی د مشروط انتفاء کوم ضروری امر له سره نه دی. ځینی داسی وایی چه د «کبائر» له دی لفظه چه په دی آیت کښی مذکور دی اکبرالکبائر یعنی خاص شرک مراد دی او د کبائر د لفظ د جمعی راوړلو سبب د شرک د انواعو تعدد مراد دی او تر دی لاندی څو نوری خبری هم تر بحث لاندی راځی. مګر مونږ له هغو ګردو (تولو) څخه تیریږو او یواځی د هم دی آیت داسی محققه او عمده معنی بیانوو چه له نصوصو او عقل سره موافقه او د محققینو له ارشاد او قواعدو سره مطابقه وی او د فهم او انصاف د خاواندانو په نزد په دی معنی سره ګردی (تولی) ضمنی خبری پخپله حل او د معتزله ؤ په ناپوهی او عدم تدبر باندی قوی حجت جوړیږی او اهل حق ته د هغه د ابطال او د تردید په لوری توجه فرمایلو ته هیڅ حاجت نه پاتی کیږی. نو په غور ئی واورئ!

دا خو ښکاره ده چه د ﴿ إِن تَجْتَنِبُوا كَبَائِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ ﴾ الآیه ارشاد چه دلته مذکور دی او د ﴿ الَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَائِرَ الْإِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ إِلَّا اللَّمَمَ ﴾ ارشاد چه د ۲۷ جزء د «النجم» په (۳۲) آیت (۱) رکوع کښی موجود دی د دواړو ارشاداتو مطلب یو شی دی او یواځی په لفظونو کښی ئی لږ څه فرق سره شته، نو اوس هر هغه مطلب چه د هغه آیت وی همغه به د دی آیت مطلب هم وی د «النجم» د سورت د آیت په نسبت د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله تعالیٰ عنه ارشاد په (بخاری) او د احادیثو په نورو کتابونو کښی ښکاره شته، عن ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه **قال ما رأيت شيئا اشبه باللمم مما قال ابوهريرة عن النبی صلی الله عليه وسلم ان الله كتب على ابن آدم حظه من الزنی ادرک ذلک لامحالة فزنی العين النظر وزنی اللسان المنطق - والنفس تتمنی وتشتهی والفرج يصدق ذلک ويكذبه انتهی»** د پوهیدلو په شرط له دی حدیث څخه د دی دواړو پخوانیو آیتونو د واقعی او تحقیقی مطلب پوره پته ولګیده. او د حبر الامة او لسان القرآن حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه د فرمایلو څخه دا هم معلومه شوه چه د «لمم» او علی

هذالقياس د «سيئات» معنى له دى څخه ښه نشى كيدى، نو اوس د دى مطلب په مقابل كښې به د دى آيت د مضمون په نسبت بل كوم تقرير څرنګه د ترجيح وړ (لائق) او د غوره كيدلو لايق كيدى شى؟ بالخصوص د معتزله ؤ چتى (بيكاره) وينا په څه ډول (طريقه) د التفات وړ (لائق) او د ځواب لايقه ګڼله كيږى؟ او په واقعى توګه (طور) د ذكر شوى حديث مطلب او هغه خبره چه حضرت ابن عباس رضى الله تعالىٰ عنه له هغه څخه ايستلى ده داسى عجيبه او د قبول وړ (لائق) تحقيق دى چه له هغه څخه د دواړو آيتونو مضمونونه ښه محقق شوى دى، او دى د معتزله ؤ خرافاتو ته هيڅ ځاى او اهل حق ته د هغو د ترديد ضرورت هيڅ پاتى نشو، او په هغه سره د نورو ضمنى اقوالو او اختلافاتو حل هم په ښه ډول (طريقه) سره وشو لكه چه په ادنىٰ تأمل سره پوهان پرى پوهيدى شى.

مونږ د توضيح په غرض د ذكر شوى حديث خلاصه ليكو حضرت عبدالله بن عباس رضى الله تعالىٰ عنه فرمائى چه د «لمم» لفظ چه په «النجم» كښې راغلى او د هغه د معافى وعده شوى ده د هغه د تعيين او تحقيق په نسبت مونږ ته د ابى هريره رضى الله تعالىٰ عنه د حديث څخه بهتر كوم بل شى نه دى معلوم چه خلاصه ئى دا ده چه رسول كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلى دى الله تعالىٰ د بنى آدم په ذمه باندى د زنا كومه برخه چه مقرره فرمايلى ده هغه هرومرو (خامخا) ده ته رسيدونكى ده نو د زنا په فعل كښې د سترګو برخه ليدل دى او د ژبى برخه د هغو خبرو ويل دى چه د زنا د فعل مقدمات او اسباب پيدا كوى او د نفس حصه دا ده چه د زنا تمنا او د هغه غوښتنه كوى. مګر د زنا د فعل تحقق او د هغه بطلان اصلاً د فرجينو په عمل پورى موقوف دى. يعنى كه د فرجينو څخنى د زنا صدور محقق شو نو د سترګو، ژبى او نفس او د نورو ګردو (تولو) په زنا كښې واقع كيدل محقق شول كه د ګردو(تولو) اسبابو او ذرائعو وسائلو د شتوالى سره د فرجينو فعل متحقق نشى بلكه له «زنا» څخنى ئى «توبه» او اجتناب په نصيب شى نو اوس د زنا هغه ګرد (تول) وسائل او وسائط د مغفرت لايق شول يعنى كله چه د فرجينو زنا كول باطل شو، ګواكى د دوى ماهيت قلب شوى د ګناه په ځاى عبادت وګرځيد. مثلاً يو سرى د غلا په نيت تر مسجد پورى ورسيده مګر په مسجد او په عين موقع كښې متنبه او وينښ شو او له غلا ئى توبه وايسته او ګرده (توله) شپه ئى د الله تعالىٰ په عبادت كښې تيره كړه. نو ښكاره ده هغه ورتګ چه د غلا وسيله په نظر راته اوس همغه د توبى وسيله او د لمانځه سبب وګرځيد. نو د ابوهريره رضى الله تعالىٰ عنه د دى حديث له اوريدلو څخه عبدالله بن عباس رضى الله تعالىٰ عنه وپوهيد چه «لمم» هغه خبرى دى چه په اصل كښې لويه ګناه نه ده مګر د ګناه د سبب كيدلو لامله (له وجى) ګناه ګرځى نو د آيت مطلب به داسى شى هغه كسان چه له لويو او ښكاره ؤ ګناهونو څخنى ځانونه ژغورى (ساتى) خو (لمم) ورځنى صادريږى مګر د لويى او اصلى ګناه له صدور څخه پخوا دوى له خپل قصور څخنى تائب او مجتنب كيږى نو اوس لكه چه ابن عباس رضى الله تعالىٰ عنه د ابوهريره رضى الله تعالىٰ عنه د حديث په اساس د (النجم) د سورت د آيت په مطلب باندى پوهيدلى دى مونږ لره هم ښائى چه همغه معنى د ابن عباس رضى

الله تعالیٰ عنه له ارشاد سره سم د «النسآء» د سورت د آیت په مطلب کښې هم بې له تکلفه واخلو چه وروسته له هغه الحمدلله نه مونږ ته د دې خبرې ضرورت پاتې کیږي چه د دې آیت په توضیح کښې د صغیرې ګناه او د کبیرې ګناه مختلف تفسیرونه نقل کړو او نه به راسره د معتزله ؤ د استدلال د ځواب ورکولو څه فکر وي. د سیئاتو د تکفیر وجه او د جنت د دخول سبب آسان او له قواعدو سره سم په لاس راځي او د اجتناب معنی هم ظاهریږي. او نورې ګردې (تولې) وړې خبرې انشاءالله تعالیٰ په لږ تدبر سره حل کیږي د دواړو ذکر شویو آیتونو خلاصه د حدیث له ارشاد او د ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه له بیان سره سم داسې شوه «هغه کسان چه خپل ځانونه له هسې ګناهونو څخه ژغورې (ساتي) او د هغو د ارتکاب څخه خپل نفسونه ساتي چه د ګناهونو په سلسله کښې مقصود او لویه ګڼله کیږي، نو د هغه اجتناب او ژغورنې (ساتنې) په وجه سره د دوی هغه بدکار چه د کومې لویې ګناه د حصول په طمع ئې کړې وي معافیږي.
او د ﴿ وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَىٰ فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَىٰ ﴾ له ارشاد سره به سم دا کسان په جنت کښې داخلیږي. دا مطلب نه دی چه د زنا د سلسلې صغائر د کومې بلې سلسلې د کبیرې ګناه مثلاً د شرابو له نه څښلو څخه به معافیدې شي یا د شرابو د څښلو لامله (له وجې) د هغو مؤاخذه هم لازمه او واجبیږي. والله اعلم.
(دا د «فوائد موضح الفرقان» عبارات او تحقیقات دي. ولې په واقع کښې مطلقاً صغائر په حسناتو سره ببښل کیږي. کما قال الله تعالیٰ ﴿ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَٰلِكَ ذِكْرَىٰ لِلذَّاكِرِينَ ﴾

---

## وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللَّهُ بِهِ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ

---

**او ارمان مه کوئ تاسې د هغه شي چه غوره ګرځولې دي الله په هغه شي سره ځینې له تاسې پر ځینو نورو**

---

**تفسیر:** یعنې حق تعالیٰ چه چاته پر بل چا په کوم صفت کښې شرافت، فضیلت، اختصاص او امتیاز عنایت فرمایی، نو تاسې د هغه هوس او حرص مه کوئ! چه د هغه دې نه وي، زما دې وي ځکه دا هم ګواکې همغسې دي چه د چا په خاص مال او ځان باندې له کوم سببه منګولې خښې کړئ! چه د هغه حرمت اوس تیر شو او هم له دې څخه ستاسې په منځو کښې حسد او بغض پیدا کیږي. او د الله تعالیٰ له حکمت څخه هم مخالفت لازمیږي. ځینو ښځو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې عرض وکړ چه «څه سبب دی چه په هر ځای کښې الله تعالیٰ نارینه ؤ ته خطاب فرمایی او هغوی باندې حکمونه کوي او د ښځو ذکر نه کیږي او په میراث کښې نارینه ته دوه برخې ورکولې شي؟» په دې آیت کښې د دغو ګردو (تولو) پوښتنو ځواب ورکړې شوی دی.

لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُوا ۖ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ
وَسْأَلُوا اللَّهَ مِن فَضْلِهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ﴿٣٢﴾

شته نارینه ؤ لره نصیب (برخه، مقرره له ازله) په سبب د هغه عمل چه کړی وی دوی او شته ښځو لره نصیب (برخه مقرره له ازله) په سبب د هغه عمل چه کړی وی دوی او سؤال کوئ تاسی له الله نه له فضل (او مهربانی) د ده بیشکه چه الله دی پر هر شی ښه عالم (ډیر دانا).

**تفسیر:** یعنی نارینه او ښځو لره همغسی برخی مقرری شوی دی چه دوی کار کوی خلاصه ئی داسی شوه چه هر یوه ته د هغه د عمل بدل پوره ورسیږی او په هغه کښی هیڅ قسم کمی نه کیږی. چه چا ته د شکایت موقع پاتی شی. هو! خبره بله ده چه الله تعالیٰ سم له خپل حکمت او رحمت سره چا ته چه خاصه لویی او فضیلت عنایت کړی، نو د هغه په نسبت حرص او شکایت کول بیځایه هوس دی. هو! که د خپل عمل په معاوضه نور زیات ثواب او انعام وغواړی دا بهتره او مناسبه ده او هیڅ تاوان او خرابی پکښی نشته. که څوک د فضل طالب وی نو ده ته لازم دی چه د عمل په وسیله دی د هغه طلب وکړی!. او د حسد او تمنا له پلوه دی د فضل طالب نشی! او الله تعالیٰ ته هر یو شی پوره معلوم دی، او د هر یوه شی درجه او د هغه استحقاق ډیر ښه ورخرګند (ورښکاره) دی او له هر یوه سره د هغه د شان سره مناسبه معامله کوی. نو که چاته الله جل جلاله فضیلت وربه برخه کوی دا عطا ئی بیخی د علم او حکمت سره سمه ده. او هیچا ته نه ښایی چه د خپلی ناپوهی لامله (له وجی) د هغه په نسبت څه اندیښنه وکړی.

(د خدای عطا ته لیاقت ضروری نه دی
بلکه شرط د لیاقت انعام د خدای دی)

وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ ۚ وَالَّذِينَ عَقَدَتْ
أَيْمَانُكُمْ فَآتُوهُمْ نَصِيبَهُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدًا ﴿٣٣﴾

او دپاره د هر یوه (له نارینه ؤ او ښځو) ګرځولی دی مونږ وارثان (چه واخلی خپلی برخی) له هغه (ماله) چه پریښی وی مور او پلار او نورو اقاربو

(خپلوانو نو مه ئی ورکوئ پردیو ته) او هغه کسان چه غوته شوی دی قسمونه ستاسی (په دوستی د دوی) نو ورکوئ نصیب (برخه) د دوی بیشکه چه الله دی پر هر شی باندی ښه خبردار

**تفسیر:** ای مسلمانانو مونږ ستاسی د هر یوه له پاره نارینه وی که ښځه له هغه مال ځنی چه مور او پلار او خپلوانو پریښی دی وارثان گرځولی دی او هیڅوک ورځنی بی برخی گرځولی شوی نه دی. او له هغو خلقو سره چه ستاسی معاهده شوی ده هغوی ته برخی ئی هرومرو (خامخا) وروروسوئ! الله تعالیٰ ته ښه معلومه ده چه وارثانو ته څومره برخی ورکری شی؟ او هغو ته چه معاهده ورسره شوی ده، څه ورکری شی؟ او زمونږ دا احکام څوک عملی کوی؟ او څوک تری غاړه غړوی؟

**فائده:** ډیرو خلقو ځان ځان له په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی ایمان راوړی ؤ او کورنی او نور خپلوان ئی همغسی کافران پاتی شوی وو. نو په دی وخت کښی رسول الله مبارک دوه دوه مسلمانان سره ورونه او ملگری کړل او هم دوی دواړه به یو د بل وارث کیده. کله چه د دوی خپلوان هم مسلمانان شول نو دا آیت نازل شو چه میراث د اقرباؤ او خپلوانو حق دی. پاتی شول هغه د خولی ایمانی ورونه نو هغوی ته میراث نه وررسیږی.

هو! په ژوندانه کښی له هغوی سره ښه سلوک لازم دی او که د مرگ په وخت کښی هغوی ته څه وصیت وکړئ ښه او مناسب دی مگر په میراث کښی دوی هیڅ برخه نه لری.

اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَی النِّسَآءِ بِمَا فَضَّلَ اللّٰهُ بَعْضَهُمْ عَلٰی بَعْضٍ وَّبِمَآ اَنْفَقُوْا مِنْ اَمْوَالِهِمْ ؕ

سړی حاکمان (مقرر شوی) دی پر ښځو باندی په سبب د دی چه فضیلت (لوئی) ورکړی دی الله ځینی د دوی ته پر ځینو نورو باندی او په سبب د دی چه نفقه (لگښت) کوی دوی (پر دغو ښځو) له مالونو خپلو

**تفسیر:** په پخوانی آیت کښی ذکر شوی ؤ چه د نارینه ؤ او د ښځو د حقوقو پوره رعایت فرمایلی شویدی، که د حقوقو په رعایت کښی څه فرق وی نو د ښځو له پاره به د شکایت موقع وه اوس په دی آیت کښی د نارینه او د ښځی درجی راښیی چه د نارینه درجه د ښځی له درجی څخه لوړه ده. د درجو د فرق لامله (له وجی) کوم فرق چه په احکامو کښی وی هغه بیخی له حکمت سره سم او د رعایت کولو وړ (لائق) دی ښځه او نارینه د حکمت له قاعدی سره سم له سره برابریدی نه شی. د ښځو دا غوښتنه بیخی بیځایه ده. خلاصه دا چه الله تعالیٰ نارینه پر

ښځو باندې په دوه ؤ وجو سره حاکم او د حال کتونکي ګرځولي دي.
(١): لويه او موهوبه وجه دا ده چه الله تعالیٰ په اصل کښې ځينو ته پر ځينو نورو يعنې نارينه ؤ ته پر ښځو باندې په علم او عمل سره (چه دا دواړه د ګردو (تولو) کمالاتو مدار دي) فضيلت او لويي عطا فرمايلي ده. چه د هغو تشريح په احاديثو کښې شته. (يعنې په عقل، علم، صبر، حلم، پوه، عصوبت، سهم، آذان، اقامت، جمع، جماعت، امامت، جمعه، خطبه، اعياد، رفاعت، عزت، شرافت، امارت، خلافت، نبوت، وحی، قوت، جهاد، عطا، سخا، حزم، عزم، او نورو سره الله تعالیٰ نارينه ته پر ښځو باندې فضيلت او لويي ورعطا کړې ده.)
(٢): کسبي وجه دا ده چه نارينه پر ښځو باندې خپل مال صرفوي، او د مهر، خوړو کاليو (کپړې) او د نورو ضروررياتو تکفل کوي. مطلب دا دی چه ښځو لره ښايي چه د نارينه حکمونه ومني.
**(فائده):** يوې صحابي ښځې د خپل ميړه (خاوند) زياته نافرماني کوله، آخر ميړه (خاوند) دا په څپيړه ووهله، دې ښځې خپل پلار ته وژړل. پلار ئې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په خدمت کښې حاضر شو او د دوی حال ئې ورښکاره کړ، رسول الله مبارک وفرمايل چه «دا دې هم له خپل ميړه (خاوند) څخه بدل واخلي!» په دې منځ کښې دا آيت نازل شو. نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل چه «زمونږ خوښه بله وه او د الله تعالیٰ اراده بله شوه. څه چه د الله تعالیٰ اراده ده په هغه کښې خير دی.»

---

فَالصّٰلِحٰتُ قٰنِتٰتٌ حٰفِظٰتٌ لِّلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللّٰهُ ۚ

---

نو هغه ښځې چه نيکې دي حکم منونکې دي (د ميړونو (خاوندانو) خپلو) ساتونکې دي په غياب (غيب) د ميړونو (خاوندانو) (خپلو کښې د ځانونو خپلو او د خپلو ميړونو (خاوندانو) د کورونو، مالونو او اولادونو) په سبب د هغه چه ساتلي دي الله (دوی ته له حقوقو پر ميړونو (خاوندانو)

---

**تفسير:** يعنې هغه ښځې چه نيکې دي دوی د خپلو ميړونو (خاوندانو) اطاعت کوي او سم د الله تعالیٰ له حکمه د خپل ميړه (خاوند) په غياب (غيب) کښې د هغه په خوښې او رضاء خپل ځان او د ميړه (خاوند) د مال او اولاد حفاظت کوي. او پخپل ځان او د ميړه (خاوند) په مال او اولاد او نورو کښې هيڅ ډول (قسم) خيانت نه کوي.

---

وَالّٰتِيْ تَخَافُوْنَ نُشُوْزَهُنَّ فَعِظُوْهُنَّ وَاهْجُرُوْهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوْهُنَّ ۚ

او هغه ښځې چه ويرېږې تاسې له سرکشۍ (بد ګزرانۍ) د دوی نه نو نصيحت وکړئ دوی ته او پرېږدئ تاسې دوی (خپلې شاوې ورته وګرځوئ!) په ځای د خوب (که په نصيحت سمې نشوې) او ووهئ تاسې دوی (که په بيلتون هم سمې نه شوې)

**تفسير:** يعنې که کومه ښځه له خپل مېړه (خاوند) سره بدګزراني وکړي نو ښايي (چه مېړه (خاوند) دی دغه ښځه د څيښتنانو (خاوندانو) په حقوقو او تعظيم) په ژبه وپوهوی. چه نور دی هسې نه کوي. که ئې ونه منله نو بيا دی په همغه خونه (کور) کښې په ګوښې (يوازې) بستره کښې پرېږدي. او که په دې هم سمه نه شوه نو داسې دې ووهي چه د دې په وجود کښې د وهلو اثر پيدا نشي يا ئې هډوکي مات نشي د هر تقصير له پاره يوه درجه وی نو سم له هغې سره د هغې د تاديب او تنبيه اجازه شته چه د هغې درې درجې په ترتيب سره په آيت کښې مذکورې دي. وهل او تکول وروستنې درجه ده. په معمولي او سرسري قصور باندې دې نه وهي. هو! که قصور ئې زيات وي، نو بيا ئې په وهلو کښې هيڅ حرج نشته او څومره چه مناسب وګڼي هغومره دې ووهي. مګر د دې خبرې لحاظ په کار دی چه هډوکي ئې مات نشي. او داسې يو پرهار ورته ونه رسيږي، چه د هغه اثر باقي پاتې شي.

فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيرًا ﴿٣٤﴾

نو که اطاعت ئې وکړ (غاړه ئې کيښوده) تاسو ته نو مه لټوئ تاسې پر دوی باندې لاره (د ضرر او اذيت) بيشکه الله دی ډير پورته (په غلبه او مرتبه کښې) ډير لوی (له ټولو اشياؤ).

**تفسير:** يعنې که هغه ښځې ستاسې په پند يا بيلتون (جدائي) يا تاديب يا وهلو سمې شوې او له غاړې غړولو او نافرمانۍ ځنې ئې لاس واخيست، او ښکاره مطيعې شوې، نو تاسې هم لاس ترې واخلئ! او د دوی الزام پسې مه ګرځئ! او تيرواته ئې مه لټوئ! او خامخا د دوی په پړ کولو پسې مه ګرځئ! او له الله څخه وويرېږئ! بيشکه الله جل جلاله پر تاسې ټولو غالب او په ګردو (ټولو) باندې حاکم دی. مه د ښځو په معاملو کښې هرومرو (خامخا) له بدګمانۍ ځنې کار اخلئ! او مه په لږ قصور باندې دوی ته سخته سزا ورکوئ! بلکه د هر قصور له پاره يو حد او اندازه ده او د ښځو په تاديب کښې وهل وروستنې درجه لري.

وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَمًا مِّنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِّنْ أَهْلِهَا

او که ویریږئ تاسی له مخالفت څخه په منځ د میړه (خاوند) او ښځی کښې نو ور ولیږئ (مقرر کړئ تاسی) یو منصف له خپلوانو د دی سړی او بل منصف له خپلوانو د دی ښځی نه،

تفسیر: یعنی ای مسلمانانو! که تاسی ته اندیښنه وی چه په میړه (خاوند) او ارتینه (ښځی) کښې ضد او مخالفت دی او دوی پخپله جګړه نشی پریکولی نو تاسی ته ښایی چه یو منصف د میړه (خاوند) له خپلوانو نه او یو منصف د ښځی له خپلوانو څخه مقرر کړئ! او د فیصلی له پاره ئی زوجینو ته ولیږئ! ځکه چه اقاربو ته به د دوی نور حالات هم معلوم وی او له دوی څخنی د خیر غوښتلو امید هم دیر کاوه شی، دا دواړه منصفان به د حالاتو تحقیقات کوی او د هر چا چه هومره قصور وی هغه به پوهوی او د دوی په منځ کښې به د موافقت فضاء پیدا کوی.

إِن يُرِيدَا إِصْلَاحًا يُوَفِّقِ اللَّهُ بَيْنَهُمَا إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا ﴿٣٥﴾

که اراده لری دغه (زوجین) د اصلاح (او جوړښت) نو موافقت به پیدا کړی الله د دغو (زوجینو) په منځ کښې بیشکه الله دی ښه عالم (د زوجینو په مصالحو هم) ښه خبردار (د حکمینو په مقاصدو هم).

تفسیر: یعنی که دواړه منصفان د زوجینو په منځ کښې د اصلاح قصد کوی، نو الله جل جلاله د دوی د ښه نیت او کوښښ لامله (له وجی) د زوجینو په منځ کښې موافقت پیدا کوی. بیشکه چه الله تعالیٰ ته د ګردو (تولو) شیانو علم شته. د نزاع د لری کولو او د اتفاق د حصول اسباب او کیفیات ګرد (تول) هغه ته ښه معلوم دی. نو ځکه د زوجینو د نزاع په لری کیدلو کښې به هیڅ سختی نه پیښیږی ان شاء الله تعالیٰ

وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا

او عبادت کوئ تاسی د الله! او مه شریکوئ تاسی له ده سره هیڅ شی!

تفسیر: په الله تعالیٰ باندی یقین ولرئ او د آخرت د ثواب په امید عبادت وکړئ په فخر (ویاړ)

او رياء او ښودانی سره مال ورکول هم شرک دی، مگر په لږه درجه.

وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَىٰ وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنبِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ مَن كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا ﴿٣٦﴾

او (نیکی کوئ) له مور او پلار سره په نیکی کولو او (نیکی کوئ!) له خاوندانو د خپلوی سره او (نیکی کوئ!) یتیمانو سره او (نیکی کوئ!) له مسکینانو سره او (نیکی کوئ!) له همسایه گانو سره چه قریب وی (په نسب یا په همسایگی کښی) او (نیکی کوئ!) له همسایه سره چه بعید وی (په نسب یا په همسایگی کښی) او (نیکی کوئ!) له هغه ملگری سره چه په څنگ کښی وی او (نیکی کوئ!) له مسافر سره او (نیکی کوئ!) له هغو (وینځو، مریو) سره چه مالکان وی (ورلره) ښی لاسونه ستاسی بیشکه چه الله نه خوښوی هغه څوک چه وی کبر کوونکی دیر فخر کوونکی.

**تفسیر:** د یتیمانو، ښځو، وارثانو او زوجینو حقوق او له دوی سره حسن معامله ئی بیان کره اوس داسی ارشاد فرمایی چه د هر یوه حق د هغوی د مرتبو په اندازه او د خپلوی او احتیاج په تناسب اداء کرئ! له گردو (تولو) څخه پخوا د الله تعالیٰ حق دی بیا د مور او پلار، بیا درجه په درجه د نورو خپلوانو او حاجتمندانو، د قریب او غیر قریب همسایه (گاوندی) څخه به نسبی یا مکانی قرب او بعد مقصود وی. په نسبی قرب کښی دا مطلب دی، چه د خپلوان همسایه حق، له پردی همسایه څخه زیات دی. او په مکانی قرب کښی به دا مدعا وی چه د نژدی همسایه حق د لری همسایه له حق څخه زیات دی. یعنی چه په لری فاصله کښی اوسیږی. په (والصاحب بالجنب) کښی د سفر، حضر او د کاراوبار رفیقان او شریکان او د یوه بادار (آقا) دوه نوکران او د یوه استاذ دوه شاگردان، دوست، شاگرد، مرید، او نور تول داخل دی. په مسافر کښی میلمه او غیر میلمه دواړه راغلل. او مملوک مال برسیره پر مرئی او وینځی نورو حیواناتو ته هم شامل دی. په آخر کښی ئی وفرمایل د هغو په مزاج کښی چه تکبر (لوئی) خودپسندی (ځان منی) داخل وی، هغه بل هیڅوک له خپل ځان سره برابر نه گڼی. او په خپل مال باندی مغرور، او په عیش کښی مشغول وی نو هسی کسان چه دا حقوق نه اداء کوی، له

دوی ځنې احتراز وکړئ! او ځانونه تری وژغورئ (بچ کړی)!

دی آیت کښې لس حقوق دی، اول حق د کردګار
دوهم حق د والدینو، یعنی حق د مور او پلار
دریم حق د نزدیکانو چه خپلوان وی که یاران
بل یتیم دی بل ناداره بل خپل چه وی ستا جار
اوم جار دی بیګانه بل همنشین چه وی د څنګ
لکه زوج شو یا زوجه شوه یا ملګری شو په لار
یا ملګری د سبق شو یا د صف یا د مجلس
او نهم ئې لاره تلونکی یا میلمه د خپل اختیار
دی لسم ئې مملوکان، د دی لس واړو حقوق
په تفسیر د «احمدی» کښې دی شکلی ای هوښیار

الَّذِينَ يَبْخَلُونَ وَيَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ وَيَكْتُمُونَ مَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ ۗ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا مُهِينًا ﴿٣٧﴾

هغه کسان چه بخیلی کوی دوی او امر کوی (نورو) خلقو ته (هم) په بخیلی (شومتیا) سره او پټوی دوی هغه شی چه ورکړی دی دوی ته الله له مهربانی خپلی او تیار کړی دی مونږ کافرانو ته عذاب سپکوونکی.

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ هغه متکبر ځان منونکی سری نه خوښوی چه بخیلی کوی او خپل مال او د الله جل جلاله ورکړی علم له خلقو ځنې پټوی او هیڅا ته نفع نه رسوی او په قول او عمل سره نورو ته هم د بخیلی ترغیب ورکوی. او د دی کافرانو له پاره مونږ د ذلت عذاب تیار کړی دی.
**(فائده):** دا آیت د یهودانو په نسبت نازل شوی دی چه د فی سبیل الله د خرڅ په صرفولو کښې هم پخپله بخیلی کوله او هم به ئې مسلمانان تری منع کول او د محمد صلی الله علیه وسلم اوصاف او د اسلام د حقانیت هغه آیتونه ئې چه په «تورات» کښې موجود وو، پټول نو مسلمانانو لره له دی نه احتراز او ځان ساتنه پکار ده!

وَالَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ رِئَاءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ

وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۭ وَمَنْ يَّكُنِ الشَّيْطٰنُ لَهٗ قَرِيْنًا فَسَاۗءَ قَرِيْنًا ﴿٣٨﴾

او نه (خوښوي الله) هغه کسان چه صرفوي دوی مالونه خپل له پاره د ښوونی خلقو ته او نه لري ایمان په الله باندی او نه په ورځ آخری (د قیامت) باندی او هر څوک چه وی شیطان ده لره ملګری نو بد ملګری دی (دا شیطان)

**تفسیر:** او دا متکبران او ځان منونکی هغه کسان دی چه خپل مال نورو خلقو ته د ځان ښوولو له پاره صرفوی. یعنی د الله تعالیٰ له پاره له صرفولو څخه دی پخپله هم بخیلی کوی او نورو ته هم د بخیلي ترغیب ورکوی لیکن خلقو ته د ځان ورښوولو له پاره خپل مالونه صرفوی. دوی نه پر الله جل جلاله باندی ایمان لری او نه په قیامت باندی باور لری چه د حق تعالیٰ د رضاء حصول او د اخروی ثواب تحصیل د دوی مقصود وی. او د الله تعالیٰ په دربار کښی دا کار خوښ او مقبول دی چه هغو حقدارانو ته ورکړ شي چه د هغوی ذکر وشو او په ورکولو کښی ئی د الله تعالیٰ خوښی او د آخرت د ثواب توقع وی.
له دی ځنی ښکاره شوه چه د الله تعالیٰ په لاره کښی همغسی چه بخل کول خراب کار دی، هم داسی ریاءکاری او د خلقو د ښوولو له پاره مال لګول هم خراب کار دی او داسی کار همغه کسان کوی چه د دوی رفیق شیطان وی چه دوی پر هسی کارونو لمسوی او تیاروی ئی.

وَمَاذَا عَلَيْهِمْ لَوْ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ بِهِمْ عَلِيْمًا ﴿٣٩﴾

او څه نقصان به ؤ په دی کفارو (باندی) که ایمان راوړی وی دوی په الله او په ورځ آخره (د قیامت) باندی او صرف کړی وی دوی ځینی د هغه شي چه روزی کړی دی دوی لره الله او دی الله په (تولو اعمالو د) دوی باندی (هم) ښه عالم.

**تفسیر:** یعنی د کافرانو په دی کښی هیڅ نقصان نه ؤ که دوی د کفر په ځای پر الله تعالیٰ او د قیامت په ورځ باندی ایمان راوړی وی او د بخل او ریاء په ځای ئی د الله تعالیٰ په لاره کښی خپل مال صرفولی بلکه بیخی د دوی نفع وه. ضرر او زیان خو په دی کښی دی چه دوی ئی اوس غوره کوی او الله تعالیٰ ته معلوم دی چه دوی ئی په څه؟ او په کوم نیت کوی؟ د همغه

عوض به هغوی ته ورکاوه شي. په پخوانی آیت ﴿ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ ﴾ کښې د مال نسبت د هغوی په لوری شوی ؤ. اوس د ﴿ وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ ﴾ په فرمایلو کښې داسې یوه لطیفه اشاره ده چه هغو کسانو دغه مال د خپل ځان بللی په هر څه ئې چه زړه غواړی لګوی ئې دوی ته دا وړ (لائق) او مناسب ؤ چه هغه مال ئې د الله تعالىٰ مال ګڼلی او په همغه لاره کښې ئې لګولی چه د الله جل جلاله له حکمه سره سم وی.

إِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ ۚ وَإِنْ تَكُ حَسَنَةً يُضٰعِفْهَا
وَيُؤْتِ مِنْ لَّدُنْهُ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٤٠﴾

بیشکه چه الله نه کوی ظلم په اندازی د یوی ذری او که وی دا (ذره) نیکی (نو) دوه چنده به کړی هغه (نیکی) او ورېه کړی (محسن ته الله تفضلاً) له نزده خپله ثواب ډیر لوی.

**تفسیر:** یعنی الله تعالىٰ د هیچا حق د یوی ذری په اندازه هم نه ضایع کوی. نو په دی کافرانو باندی چه عذاب مسلط کیږی، عین انصاف ـ او د دوی د بد عملی بدل دی. او که د یوی ذری په اندازه څوک نیکی ولری نو «اضعافاً مضاعفه ـ څو چنده» به د هغه اجر مومی. او پاک الله به له خپل لوری عظیم ثواب د انعام په طور هم ورعنایت کوی.

فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَّجِئْنَا بِكَ عَلٰى هٰٓؤُلَآءِ شَهِيدًا ﴿٤١﴾

نو څرنګه (حال) به وی په هغه وخت کښې چه راولو مونږ له هر یوه (پخوانی) امت څخه یو شاهد (د دوی له انبیاؤ څخه) او راولو مونږ تا (ای محمده !) پر دغه (محمدی امت باندی) شاهد (احوال ویونکی).

**تفسیر:** یعنی د دی کافرانو به څرنګه بد حال وی کله چه مونږ له هر امت او هر قوم څخنی هسی شاهدان راولو چه د دوی د حالاتو بیان کوونکی او د دوی د واقعی معاملاتو ظاهر کوونکی دی. له دی نه مراد د هر امت نبی او د هر عهد صالح او معتبر خلق دی چه دوی به د قیامت په ورځ کښې د نافرمانو نافرمانی او د فرمان منونکو فرمان منل بیانوی او په ګردو (ټولو) حالاتو

باندی به شاهدی لولی نو ای محمده! صلی الله علیه وسلم تا به هم پر دوی یعنی ستاسی پر امت لکه د نورو انبیاؤ علیهم السلام په شان احوال ښوونکی او شاهدی لوستونکی دروو. او داسی احتمال هم لری چه د «هؤلا» اشاره د پخوانیو انبیاؤ علیهم السلام یا د پورته ذکر شویو کافرانو په لوری وی. که انبیاء علیهم السلام پر صداقت باندی هغه وخت شاهدی لولی چه د دوی امتیان د دوی تکذیب کوی. که کفار تری مطلب شی نو مدعا به ئی داسی کیږی همغسی چه پخوانی انبیاء علیهم السلام به د خپلو امتونو د کفارو او د فساقو په فسق باندی شاهدی لولی ته به هم ای محمده! صلی الله علیه وسلم د هغوی پر بدعملی باندی شاهد کیږی چه له دی شهادت څخه به د دوی خرابی او بدی لا ښه محققه کیږی.

---

يَوْمَئِذٍ يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَعَصَوُا الرَّسُولَ لَوْ تُسَوَّىٰ بِهِمُ الْأَرْضُ وَلَا يَكْتُمُونَ اللَّهَ حَدِيثًا ﴿٤٢﴾

---

په دغه ورځ کښی به آرزو کوی هغه کسان چه کافران شوی وو او نافرمانی ئی کړی وه له رسوله دا چه کاش که هموراه کړی شوی وی پر دوی باندی ځمکه او نه به پټوی دوی له الله څخه هیڅ خبره.

---

**تفسیر:** یعنی په همغه ورځ کښی چه له هر امت څخنی به د دوی د حالاتو بیان کوونکی وبللی شی، نو کافران او نافرمانان به داسی تمنا کوی چه کشکی مونږ له ځمکی سره برابر او په خاورو کښی ګډ او بیخی فنا وی! او نن پیدا نه وی! چه له مونږ سره حساب او کتاب نه کیدی! دا خلق به هیڅ یوه خبره له الله تعالیٰ څخنی نه شی پټولی او د ذری ذری حساب به له دوی څخه اخیستل کیږی. د دی سورت له شروع څخه تر شپږو آیتونو د مخه پوری مسلمانانو ته د اقاربو او زوجینو او د نورو د حقوقو د تاکید او د دوی د حق تلفی او د بدنی او مالی نقصان نه رسولو ممانعت او معاصیو پر خرابی باندی د اطلاع ورکولو ذکر ؤ او د ﴿وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا﴾ په وسیله ئی د اقاربو، یتیمانو، مسکینانو، همسایګانو او د نورو سره د احسان او ښه سلوک ارشاد وفرمایه. د هغه په آخر کښی له تکبره، بخل او له ریاء څخنی ویرول وکړل چه دا داسی عیبونه دی چه د نورو د حق د اداء کولو او له چا سره له ښه سلوک څخنی هم انسان ستنوی (واپس کوی) او د پیسو او د روپیو د ورکوونکو او له خلقو سره د ښه سلوک کوونکو په طبیعت کښی هرومرو (خامخا) راتلونکی هم دی. اوس د دی ګردو (تولو) حکمتونو په آخر کښی بیا مسلمانانو ته صریح خطاب فرمایی او مخصوصاً د لمانځه په نسبت ئی (چه له ګردو (تولو) عباداتو څخنی اولیٰ، اعلیٰ او افضل دی او په شریعت کښی چه هومره د هغه اهتمام شوی او د هغه ارکان، شرایط، آداب او نور مفصل ښودلی شوی دی د نورو عباداتو په دی اندازه

سره اهتمام نه دی شوی) د دوه ؤ خبرو تاکید ئی فرمایلی دی چه د لمانځه د متعلقه امورو جسم او روح دی. او پر نفس باندی ډیر اهم او شاق او درانه ښکاری

(۱): دا چه د نشې په حالت کښې لمانځه ته مه نژدی کیږئ! تر څو د هغو الفاظو په معانیو ښه وپوهیږئ چه ستاسی له خولو څخه وځی.

(۲): د جنابت په حالت کښې هم له لمانځه څخه لری اوسئ! تر هغه پوری چه ولامبئ! او خپل ځانونه په غسل سره ښه پاک کړئ! ځکه چه په لمانځه کښې دوه امر مهتم بالشان دی

(یو): حضور او خشوع، (بل)؛ طهارت او نظافت، او د لمانځه د متعلقه ؤ امورو په منځ کښې هم دا دوه امره پر نفس اهم او شاق او درانده هم دی. نشه له خشوع او حضور څخه مخالف دی. جنابت له طهارت او نظافت سره منافی دی، بلکه څرنګه چه نشه د خوب او بیهوشی او نورو اودس ماتوونکو شیانو په شان د اوداسه ماتوونکی ده. نو ځکه له طهارت سره هم مخالفه ده، نو مطلب ئی داسی شو چه په پوره اهتمام سره لمونځ کوئ! او د هغه د تولو ظاهری او باطنی امورو لحاظ په ښه شان سره وکړئ! که څه هم په نفس باندی سخته تمامیږی نور په دی خاصه موقع کښې د دی خاص تاکید او تقیید د ارشاد له فرمایلو څخه دوه نفعی هم معلومیږی

(اول): څرنګه چه د پاسنیو ډیرو ذکر شویو احکامو ادا (لکه حقوق، معاملات، بدنی او مالی عبادات) او له بخل، ریاء، تکبر او ځانمنی (لوی) څخه ځان ژغورل (ساتل) پر نفس باندی سخت دی او اوریدونکو ته خلجان پیدا کوی، نو د دی خلجان او سختی علاج راښیی. یعنی که لمونځونه د هغو له ظاهری او باطنی شرائطو او آدابو سره سم اداء کړئ، نو د دی پاسنیو ګردو (تولو) ذکر شویو اوامرو او نواهیو تعمیل پر تاسی باندی آسانیږی ځکه چه د لمانځه په برکت په ګردو (تولو) اوامرو او عباداتو کښې سهولت او رغبت او له ګردو (تولو) منهیاتو او معاصیو څخه نفرت پیدا کیږی، لکه چه په نورو آیتونو او احادیثو کښې مذکور دی او محققینو علماؤ هم تصریح فرمایلی ده.

(دوهم): احتمال لری کله چه تنبل او بی همته خلق دغه تول تیر شوی احکام واوری نو د خپل ضعف او مجبوریت په تصور به په لمانځه کښې هم تنبلی او بی ذوقی ښکاره کړی چه شرائط او آداب ئی ډیر او په هر وخت کښې موجود دی. نو ځکه د لمانځه اهتمام مناسب شو. الحاصل هر هغه څوک چه د لمانځه په کولو کښې اهتمام او د هغه التزام کوی هغه ته به د نورو مالی او بدنی احکامو په تعمیل کښې هم آسانی ورپیښیږی. او هر هغه څوک چه په نورو احکامو کښې بی پروایی کوی له هغه څخه د لمانځه په کولو کښې هم قصور بعید نه دی. والله اعلم.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَقْرَبُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنتُمْ سُكَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَعْلَمُوا۟ مَا تَقُولُونَ وَلَا جُنُبًا إِلَّا عَابِرِى سَبِيلٍ حَتَّىٰ تَغْتَسِلُوا۟ ط

---

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (ای مؤمنانو!) مه نژدی کیږئ تاسی لمانځه ته حال دا چه تاسی مست یئ (له نشی) تر هغه پوری چه پوه شئ تاسی پر هغه شی چه (یی) وایئ تاسی او نه په داسی حال که چه تاسی جنب اوسئ مګر په هغه حال کښی چه اوسی تیریدونکی د لاری تر هغه پوری چه تاسی غسل وکړئ!

**تفسیر:** په ړومبنیو آیتونو کښی مسلمانانو ته خطاب ؤ ﴿وَاعْبُدُوا اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا﴾ الی آخرالایات او د هغو په پای (آخر) کښی ئی د کفارو مذمت هم بیان فرمایلی ؤ چه له تیر شوو امورو څخه ئی مخالفت کاوه وروسته له هغه بیا مسلمانانو ته د لمانځه په نسبت ځینی خاص هدایات ورکوی او د دی هدایاتو مناسبت له پخوانیو هدایاتو سره دا دی چه پخوا له دی نه د کفارو او د کتابیانو دوه عیبونه په خاص ډول (طریقه) سره ذکر شول
(۱): په الله تعالیٰ باندی ایمان نه راوړل.
(۲): خپل مال د الله تعالیٰ په لار کښی نه لګول بلکه خلقو ته د ځان ورښوولو او د خپل عزت او پت خرګندولو له پاره ئی لګاوه او ښکاره ده چه د ړومبنی خرابی او عیب منشاء، خو د علم نقصان او د جهل غلبه ده، او د وروستنی خرابی علت نفسی غوښتنی، هوا، هوس او ځان منی ده چه له هغی څخه دا راښکاره شوه چه د ګمراهی سببونه دوه دی
(اول): جهل چه په هغه کښی د حق او باطل تمیز بیخی نشی کیدی.
(دوهم): نفسی غوښتنه او شهوت چه د هغو لامله (له وجی) د حق او باطل له تمیزه سره حق سره سم عمل نشی کولی ځکه چه له شهوت سره ملکی صفات ضعیف او بهیمی قواوی قوی کیږی. چه د هغو په اثر له پرښتو ځنی لریوالی او له شیاطینو سره نژدیوالی پیدا کیږی چه دا د ګردو (تولو) زیانونو او خرابیو اساس او ښسټ (بنیاد) دی. نو اوس په دی مناسبت حق تعالیٰ جل وعلیٰ شانه منع فرمایلی ده چه د نشی په حالت کښی دی مسلمانان لمونځونه نه کوئ! چه دا د جهل حالت دی. وروسته له هغه جنابت په حالت کښی ئی هم له لمانځه څخه ممانعت فرمایلی دی، چه دا وخت د پرښتو څخه د لریوالی او د شیاطینو د نزدیوالی وخت دی په حدیث کښی راغلی دی «چیری چه جنب وی هلته پرښتی نه ورځی.» والله اعلم.
اوس د دی آیت مطلب داسی شو ای ایماندارانو! کله چه تاسی ته د کفر او د ریاء خرابی معلومه شوه او د هغوی د اضدادو په حسن باندی په ښه ډول (طریقه) سره وپوهیدئ، نو له هغو څخه د نشی او د جنابت په حالت کښی د لمونځ کولو په خرابی باندی هم په ښه شان وپوهیږئ! چه د هغی منشاء هم همغه شی دی چه د کفر او ریاء منشاء وه، نو ځکه د نشی په حالت کښی لمانځه ته نژدی کیدل نه دی په کار. څو تاسی ته په دی اندازه پوهه او هوښ درشی چه په هغو کلماتو باندی چه ستاسی له خولو څخه وځی وپوهیږئ.
او مه د جنابت په حالت کښی لمانځه ته نژدی کیږئ! تر څو چه ونه لامبئ مګر د سفر په حالت

کښې چه د هغه حکم وروسته له دې ښخه راځي.

**(فائده):** دا حکم په هغه وخت کښې ؤ چه مسکرات (نشې شیان) لا نه ؤ حرام شوي مګر د نشې په حالت کښې له لمونځ کولو ښخه ممانعت کړې شوی ؤ په روایتونو کښې راغلي دي چه «په کومه میلمستیا کښې اصحاب رضی الله تعالیٰ عنهم سره راټول شوي وو. څرنګه چه شراب ښښل په هغه وخت کښې لا نه ؤ حرام شوي، نو ځکه دوی شراب ښښلي وو. دلته د ماښام وخت راغی، نو ګرد (ټول) سره په همغه حالت کښې پر لمانځه باندې ودریدل. امام د﴿ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْكَٰفِرُونَ ﴾ په سورت کښې د ﴿لَآ أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ﴾ په ځای د بې سدی (بې هشی) په حالت کښې «**اعبد ماتعبدون**» ولوست چه په هغه سره د هغه معنی بیخي غلطه او له حقیقته مخالفه شوه نو په دې مناسبت دا آیت نازل شو. اوس که د خوب د زیاتوالي په وخت کښې یا د رنځورۍ له امله (وجې) چا ته د داسې بې سدی (بې هشی) کوم حالت پیدا شي. چه په خپلو خبرو باندې نه پوهیږي، چه څه وائي؟ نو په داسې حالت کښې د ده لمونځ کول ناروا دي. او هر کله چه په سد او هوښ راغي، نو ضرور دي د هغه فوت شوي لمانځه قضائي راوړي!

وَإِن كُنتُم مَّرْضَىٰٓ أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوْ جَآءَ أَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ ٱلْغَآئِطِ أَوْ لَٰمَسْتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَلَمْ تَجِدُوا۟ مَآءً فَتَيَمَّمُوا۟ صَعِيدًا طَيِّبًا فَٱمْسَحُوا۟ بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ ۗ

او که وئ تاسې مریضان (رنځوران) یا په سفر باندې (په حالت د بې اودسی یا جنابت کښې) یا راشي یو له تاسې له بیدیا (له بولو) نه یا جماع وکړئ تاسې ښځو سره نو ونه مومئ تاسې اوبه (یا ئې نشئ استعمالولی) نو اراده وکړئ تاسې مخ د ځمکې (خاورې) پاکې ته نو مسحه وکړئ تاسې په مخونو خپلو او په (دواړو) لاسو خپلو (تر څنګلو پورې)

**تفسیر:** یعني د جنابت په حالت کښې دي لمونځ نه کوئ! وروسته له غسل او لمبلو ښخه دي اداء کړ شي! دا حکم هلته دی چه کوم عذر نه وي، که یو داسې عذر پیښ شي چه د اوبو استعمال د هغه لامله (له وجې) ممکن نه وي او تری معذور شي او د طهارت حصول ضروري وي نو په داسې وخت کښې تیمم وهل کافي دي. د اوبو د استعمال معذوریت درې صورتونه لري

(۱): ناروغي چه د اوبو استعمال ورته ضرر پیښوي.

(۲): چه سفر ئې په مخه کښې وي او دومره اوبه ورسره وي چه یوازې خپله ګزاره پرې کولی شي، اوکه اودس پرې وکړي تنده به ورته ضرر ورسوي او اوبه له ده ځنې لرې وي.

(۳): دا چه اوبه بیخی موجودی نه وی. د اوبو د نشتوالی په تقدیر ئی د طهارت د ضرورت دوه صورتونه ښودلی دی
(اول): له بولو او غائطو څخه وروسته د اوداسه د ضرورت په وخت کښی.
(دوهم): له مجامعت څخنی وروسته د غسل او د لمبلو ضرورت په وخت کښی.
**(فائده):** د تیمم صورت دا دی چه په پاکه ځمکه باندی دی دواړه لاسونه ووهی! بیا دی پر خپل تول مخ باندی په ښه ډول (طریقه) سره مسحه کړی! بیا دی دواړه لاسونه پر ځمکه باندی ووهی! او دواړه لاسونه دی تر څنګلو پوری مسحه کړی! خاوره طاهره ده. او د ځینو شیانو له پاره د اوبو په شان پاکوونکی هم ده. مثلاً موزه، بوټ، ماسی، چاړه، هنداره او نور (هغه نجاست چه پر ځمکه باندی ولویږی او په خاوره تبدیل شی هغه هم د خاوری له متجانسیت څخه پاکیږی) او هم پر لاسو او مخ باندی د خاوری په مښلو سره د تذلل او عاجزی مراتب پوره کیږی. چه له ګناهونو څخنی د معافی غوښتلو اعلیٰ صورت دی. کله چه خاوره ظاهری او باطنی دواړه قسمه نجاست لری کوی نو ځکه ئی د معذوریت په وخت کښی د اوبو قائم مقام درولی ده. پرته (علاوه) له هغه سهولت او آسانی له مقتضاء څخه چه پر هغه باندی د تیمم حکم مبنی دی، بله وجه دا ده ښائی د اوبو قائم مقام داسی شی ودرولی شی چه له اوبو څخنی زیات سهل الوصول وی نو په ځمکه کښی دا خاصیت ښکاره دی، ځکه چه خاوره هر چیری شته. معهذا خاوره د انسان اصل دی او خپل اصل ته په رجوع کولو سره له ګناهونو او خرابیو څخه نجات مومی. کافران به هم آرزو کوی چه مونږ به په څه ډول (طریقه) سره بیا له خاوری سره ګډ شو. لکه چه په ړومبی آیت کښی مذکور دی

---

إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُورًا ﴿٤٣﴾

---

بیشکه الله دی ښه عفو کوونکی (چه داسی سختی ئی را آسانه کړه) ښه مغفرت کوونکی (د تقصیراتو)

---

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ د ضرورت په وخت کښی د تیمم اجازه راکړی ده. او خاوره ئی د اوبو قائم مقام درولی ده. ځکه چه هغه سهولت او معافی ورکوونکی او د بندګانو د خطاؤ معافوونکی ذات دی. او خپلو بندګانو نفع او هوسائی (آسانی) خوښوی. چه له دی څخنی دا هم ښکاره شوه، چه په لمانځه کښی د نشی په حالت کښی چه د یوه شی په ځای بل شی لوستلی شوی ؤ، هغه ئی هم معاف کړی دی، چه له هغه څخه دا خلجان پاتی نشو چه وروسته له دی نه دی په داسی حالت کښی لمونځ نه کوی، مګر هغه غلطی چه پخوا له دی نه شوی ده ښائی د هغی په نسبت مؤاخذه وشی.

اَلَمۡ تَرَ اِلَى الَّذِيۡنَ اُوۡتُوۡا نَصِيۡبًا مِّنَ الۡكِتٰبِ يَشۡتَرُوۡنَ الضَّلٰلَةَ
وَيُرِيۡدُوۡنَ اَنۡ تَضِلُّوا السَّبِيۡلَ ﴿۴۴﴾ وَاللّٰهُ اَعۡلَمُ بِاَعۡدَآئِكُمۡ ؕ وَكَفٰى
بِاللّٰهِ وَلِيًّا ۙ وَّكَفٰى بِاللّٰهِ نَصِيۡرًا ﴿۴۵﴾

آیا نه دی کتلی تا (نه ئی خبر له حاله د) هغو کسانو چه ورکړی شوی ده دوی ته څه برخه له کتابه چه پیری (اخلی) دوی ضلالت (گمراهي په عوض د هدایت) او اراده لری دوی د دی چه ورکه کړئ تاسی (هم) لاره (د حق) او الله ښه عالم دی په دښمنانو ستاسی (هم نو خبروی مو پری چه تری په ځنگ شئ!) او کافی (بس) دی الله ولی (دوست حمایت کوونکی ستاسی) او کافی (بس) دی الله مددگار (ستاسی).

**تفسیر:** په دی آیتونو کښی د یهودانو قبائح او د هغوی د مکر او فریب بیان دی. او یهودان په خپل ضلالت او کفر باندی خبروی او هم نور خبروی چه له هغوی ځنی ځان وساتئ! لکه چه له ﴿ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ مَنۡ كَانَ مُخۡتَالًا فَخُوۡرًا ﴾ څخه نیولی تر ﴿ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تَقۡرَبُوا الصَّلٰوةَ ﴾ الآیه ـ پوری د یهودیانو قبائح ذکر شوی دی، په منځ کښی ئی د یوه خاص مناسبت لامله (له وجی) په نشه او په جنابت کښی له لمونځ کولو څخه ممانعت فرمایلی دی بیا ئی د یهودانو قبائحو ته دوام ورکړ. یهودانو ته له کتاب ځنی څه برخه ورکړی شوی ده، یعنی د هغه د الفاظو د لوستلو برخه ورکړی شوی ده، او د عمل کولو برخه چه اصلی مقصود ده، نه ده ورکړی شوی. او گمراهي پیری، (اخلی) یعنی د (آخرالزمان نبی صلی الله علیه وسلم) له حالاتو او اوصافو ځنی به ئی د دنیائی عزت او رشوت لامله (له وجی) خلق نه خبرول. او پټول ئی. او عمداً به ئی تری انکار کاوه او غوښتل ئی چه مسلمانان هم له دین ځنی واړوی چه گمراهان شی. او الله تعالیٰ ته ای مسلمانانو! ستاسی دښمنان داسی ښه معلوم دی چه تاسی ته نه دی معلوم. نو د الله تعالیٰ په دی ارشاد باندی اطمینان ولرئ! او له دوی نه مو خپل ځانونه وژغورئ (محفوظ کړی)! الله تعالیٰ تاسی ته د نفعی رسولو او د زیان څخه د ساتلو له پاره کافی دی. نو ځکه له دښمنانو ځنی هیڅ ډول (طریقه) اندیښنی مه کوئ! او په دین باندی قائم اوسئ!

مِنَ الَّذِيۡنَ هَادُوۡا يُحَرِّفُوۡنَ الۡكَلِمَ عَنۡ مَّوَاضِعِهٖ وَ
يَقُوۡلُوۡنَ سَمِعۡنَا وَعَصَيۡنَا وَاسۡمَعۡ غَيۡرَ مُسۡمَعٍ وَّرَاعِنَا

# لَيًّا بِأَلْسِنَتِهِمْ وَطَعْنًا فِي الدِّينِ

ځینې له هغو کسانو چه یهودان شوي دي اړوي دوی خبرې (د شریعت او محمدي اوصاف) له ځایو د دي (خبرو) څخه او وائي دغه (یهودان) واورېدله مونږ (وینا ستا) او ونه مانه مونږ (حکم ستا) او (وائي یهودان) واوره (ته) په داسي حال کښې چه نه ئې اورولی شوی او (وائي یهودان لفظ د) راعنا په تاوولو د ژبو خپلو او په عیب ویلو سره په دین کښې؛

**تفسیر:** په یهودانو کښې داسي خلق هم دي، چه هغه «تورات» چه د الله تعالیٰ له خوا نازل شوی دی له خپله ځایه اړوی او بدلوی ئې یعنې لفظي او معنوي تحریفونه پکښې کوی. (﴿ وَيَقُولُونَ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا ﴾ - او وایی وامو ورېدله او ونه مانه مونږ) یعنې کله به چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یهودانو ته کوم حکم اوراوه، نو دوی به په ځواب کښې ویل وامو ورېده! یعنې ومو مانه خو ورو به ئې ویل چه مونږ نه دی منلی. یعنې یواځې مونږ په غوږ اورېدلی او په زړه مو هغه نه دی منلی.

(﴿ وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ ﴾ - او وایی یهودان واوره په داسي حال کښې چه نه ئې اورولی شوی) یعنې کله چه یهودان له محمد صلی الله علیه وسلم سره مخاطبه کوی، نو وایی «واوره! دروا دی نه ورول شي!» یعنې داسي خبرې کوی، چه دوه معناګانې لري. که د یوې معنې په اعتبار دعا یا تعظیم وی نو د بلې معنې په لحاظ ښیرا او تحقیر هم کیدی شي. لکه چه دا خبره په ظاهره کښې د خیر دعا ده، مطلب دا چه «ته تل غالب او معزز اوسې، هیڅکله دې تاته کومه بده او مخالفه خبره وانه ورولی شي!» او په زړو کښې به ئې هسې نیت کاوه چه ته کوڼ شي! (العیاذ بالله).

(﴿ وَرَاعِنَا ﴾-او وائي راعنا) یعنې کله چه یهودان د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې راتلل، «نو راعنا» به ئې هم ویل چه د هغه معناوې هم دوې دي. یوه ښه او بله خرابه چه د هغه بیان په اول جزء د البقرة په (١٠٤) آیت (١٣) رکوع کښې شوی دی. ښه معنی ئې دا ده چه «ته زمونږ رعایت وکړه! او د شفقت نظر پر مونږ وفرمایه! چه ستا پر مطلب باندې ښه وپوهیږو او د څه شي پوښتنه کول چه غواړو د هغه پوښتنه وکړی شو. او بده معنی ئې دا ده چه د یهودیانو په ژبه دا د تحقیر کلمه وه، یا به ئې په ژوولی ژبه سره «راعینا» ویل چه د هغه معنی «زمونږ شپون» دی او دا د هغوی شرارت ؤ، ځکه چه هغوی ډیر ښه پوهیدل چه حضرت موسیٰ علیه السلام او نورو انبیاؤ علیهم السلام هم پسونه څر ته بیولی وو.

(﴿ لَيًّا بِأَلْسِنَتِهِمْ ﴾په تاوولو د ژبو خپلو...) یعنې یهودانو به دا کلمې پخپلو خبرو کښې سره ګډولې او په داسي یوه ډول (طریقه) سره به ئې ویلې چه د اورېدونکي فکر به ئې ښې معنی ته اړاوه او د هغو بدې معنی ته به له سره د چا ذهن نه منتقل کیده. او پخپلو زړونو کښې به ئې همغه خرابه معنی قصدوله او بیا به ئې پر ده باندې داسي عیب لګاوه، چه که دا سړی په رښتیا

سره نبي وی نو زمونږ په دی قریب (دروه) به هرومرو (خامخا) پوهیده، نو الله تعالیٰ د دوی دا فریبونه مسلمانانو ته په ښه ډول (طریقه) سره ښرگند کړل.

وَلَوْ أَنَّهُمْ قَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا وَاسْمَعْ وَانظُرْنَا لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَأَقْوَمَ وَلَٰكِن لَّعَنَهُمُ اللَّهُ بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٤٦﴾

او که بیشکه دوی ویلي وی واوریده مونږ (وینا ستا) او ومانه (حکم ستا په بدل د «عصینا» کښي) او (که دوی ویلي وی) واوره (بی له «غیر مسمع» او نظر لره پر مونږه (په بدل د «راعنا» کښي نو خامخا به ؤ خیر دوی ته او ډیره سمه (دا وینا) ولیکن لری کړی دی دوی الله (له خپله رحمته) په سبب د کفر د دوی پس نه راوړی ایمان (له دغو یهودانو مگر لږ خلق

تفسیر: حق تعالیٰ د یهودانو د دغو دریو ملمومو اقوالو له بیان کولو څخه وروسته اوس د ملامتیا او د هدایت په ډول (طریقه)، ارشاد فرمائی چه که یهودانو د ﴿وَعَصَيْنَا﴾ په ځای ﴿وَأَطَعْنَا﴾ او د ﴿وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ﴾ په عوض یوازی ﴿وَاسْمَعْ﴾ او د ﴿وَرَاعِنَا﴾ په ځای ﴿وَانظُرْنَا﴾ ویلی، نو دا به د دوی په حق کښي بهتر ؤ، او دا خبره به په ځای او سمه وه. او هسی بیهودگی او شرارت ته به ځای نه ؤ پاتی، چه له پاسنیو کلماتو څخه یهودانو په خپلو زړونو کښي بدی معناگانی اخیستلی. لیکن ښرنگه چه الله تعالیٰ دوی د خپل کفر په سبب له خپل رحمت او هدایت څخه بی برخی گرځولی دی، نو ځکه دوی په سمه لاره باندی نه راځی او په گټورو (فائده منلو) خبرو باندی نه پوهیږی او ایمان نه راوړی مگر لږ خلق دی چه له دغو شرارتونو او خباثتونو څخه په ښنګ او د الله جل جلاله له لعنت ځنی محفوظ پاتی دی لکه حضرت (عبد الله بن سلام) او د هغه نور ملگری رضی الله تعالیٰ عنهم.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ آمِنُوا بِمَا نَزَّلْنَا مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُم مِّن قَبْلِ أَن نَّطْمِسَ وُجُوهًا فَنَرُدَّهَا عَلَىٰ أَدْبَارِهَا أَوْ نَلْعَنَهُمْ كَمَا لَعَنَّا أَصْحَابَ السَّبْتِ ۚ وَكَانَ أَمْرُ اللَّهِ مَفْعُولًا ﴿٤٧﴾

اى هغو کسانو چه ورکړى شوى دى دوى ته کتاب (اى کتابیانو!) ایمان راوړئ تاسى! په هغه (قرآن) چه نازل کړى دى مونږ حال دا چه تصدیق کوونکى دى د هغه کتاب چه تاسى سره دى پخوا له هغه چه هوار کړو مونږ ډير مخونه نو وګرځوو دا (هوار مخونه) په شاګانو د دوى یا پخوا له دى چه لعنت وکړو پر دوى لکه چه لعنت کړى وو مونږ په اصحابو (د ورځى) د شنبى او دى امر (حکم) د الله کیدونکى (خامخا).

تفسیر: په پخوانیو آیتونو کښې یې د یهودانو ضلالت او د دوى د مختلفو قبائحو ذکر وفرمایه اوس هغوى ته د خطاب په ډول (طریقه) د ایمان او د قرآن د تصدیق حکم ورکاوه شى او وویرول شول چه له مخالفت څخه ځانونه وژغورى (وساتى). مطلب ئى دا دى چه «اى اهل د کتابو! ایمان راوړئ! په هغه «قرآن» چه احکام ئى له (تورات) سره موافق او د هغه مصدق دى. ایمان راوړئ! پخوا له هغه څخه چه مونږ ستاسى د مخ علامې یعنى سترګى پوزى او نور بدل کړو. مطلب دا چه که تاسى ایمان را نه وړئ، نو ستاسى څیرى بدلوو او بیا ئى د شا په لورى اړوو. یعنى ستاسى مخ له چیت پیت کولو څخه وروسته د شا په لورى او ستاسى شا د مخ په لورى اړوو. (یاد ا چه) ایمان راوړئ پخوا له دى نه چه مونږ ډیر مخونه محوه کړو او د شتونو په شان یوه تخته ئى وګرځوو.» یا به د شنبى د ورځى د مسخ شویو خلقو په شان تاسى هم مسخ کړو او له تاسى ځنى به ځناوران جوړ کړو.

د ﴿أَصْحَٰبَ ٱلسَّبْتِ﴾ قصه د «الاعراف» په سورت کښې مذکوره ده.

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ ۚ وَمَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱفْتَرَىٰٓ إِثْمًا عَظِيمًا ﴿٤٨﴾

بیشکه چه الله نه ښښى دا چه شریک ونیولى شى له (الله سره او ښښى هغه (ګناه) چه ښکته وى له شرکه (لویه وى که وړه) هغه چاته چه اراده وفرمائى (د مغفرت ئى) او هر هغه څوک چه شریک ونیسى. له الله سره نو په تحقیق ویى تړل (په الله) دروغ لوى (او وئى کړه) ګناه ډیره لویه.

تفسیر: یعنى مشرک ته له سره مغفرت نشته بلکه دوزخ ئى دائمى سزا ده. هو! له شرک ځنى ښکته چه کوم صغیره ګناهونه دى یا کبیره. هغه ګرد (ټول) د مغفرت وړ (لائق) دى الله تعالىٰ د هر چا د مغفرت اراده چه وفرمائى د هغه صغیره او کبیره ګناهونه سره له څه عذاب ورکولو

یا بې له عذاب ورکولو معافوي او دا د دې په لوري اشاره ده څرنګه چه یهودان په کفر او شرک کښې مبتلا دي، نو دوي دې د مغفرت توقع او هیله (امید) نه کوي!.

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يُزَكُّونَ أَنفُسَهُم ۚ بَلِ اللَّهُ يُزَكِّي مَن يَشَاءُ وَلَا يُظْلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٤٩﴾

آیا نه دي کتلي ته (نه ئي خبر له حاله د) هغو کسانو چه پاکوي دوي ځانونه خپل (او په واقع کښې داسي نه دي) بلکه (خاص) الله پاکوي هغه څوک چه اراده وفرمائي (د پاکۍ ئي) او ظلم به ونه کړې شي پر دوي په اندازه د یوه نرۍ تار (هم).

**تفسیر:** یعنې یهودان سره له دومره خرابیو بیا هم خپل ځانونه پاک او مقدس ګڼي، تر دې چه خپل ځانونه «ابناؤالله» او «احباؤالله» هم بولي چه بیخي چټي (بیکاره) او لغوه خبره ده، بلکه د هر چا په نسبت چه الله تعالیٰ اراده وفرمائي هغه مقدس او پاکیزه کوي او د یهودانو په تشه وینا سره هیڅ نه کیږي. د دغو متکبرانو په ډله باندې به لږ ظلم هم نه کیږي یعنې دغه ډله به د خپلو بدو عملونو له سببه په لوي عذاب اخته کیږي او په دوي باندې به هیڅکله په ناحقه سره عذاب نه واردیږي.

**(فائده):** یهودانو چه خوسي (سخي) ته عبادت کاوه او حضرت (عزیر علیه السلام) ته ئي د الله تعالیٰ ځوي ویل کله چه هغوي دا آیت ﴿ إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ ﴾ الآية ـ واوریده، نو ویې ویل چه «مونږ خو مشرکان نه یو بلکه د الله تعالیٰ خاص بندګان او د انبیاؤ ځامن یو او پیغمبري زمونږ میراث ده.» نو الله تعالیٰ د دوي د دغي لویي او ځانمنې په مقابل کښې دا آیت نازل کړ. (فتیل هغې نرۍ پردې ته وایي چه د تارونو په شان د خرماؤ د زړو په چاودونو کښې وي.)

انظُرْ كَيْفَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ ۖ وَكَفَىٰ بِهِ إِثْمًا مُّبِينًا ﴿٥٠﴾

وګوره ای (محمده!) چه څرنګه تړي دوي په الله باندې دروغ او (بس) دی دا (دروغ) ګناه ښکاره.

**تفسیر:** یعنې څومره د تعجب خبره ده چه په الله تعالیٰ باندې دا ډول (طریقه) تهمتونه کوي. او د کفر او شرک له ارتکاب سره خپلو ځانونو ته د الله تعالیٰ دوستان وایي او د الله تعالیٰ په نزد

د مقبولیت مدعیان دی. او داسې سخت تهمت کول د دوی د صریح ګنهګار کیدلو له پاره بیخي کافي دی.

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ يُؤْمِنُوْنَ بِالْجِبْتِ وَالطَّاغُوْتِ وَيَقُوْلُوْنَ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا هٰۤؤُلَاۤءِ اَهْدٰى مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا سَبِيْلًا ﴿٥١﴾

آیا نه دی کتلي تا هغو کسانو ته چه ورکړی شوی ده دوی ته برخه له کتاب څخه ایمان راوړی دوی په بت او په شیطان او وایي دوی په حق د هغو کسانو کښې چه کافران شوی دی دا (کفار) ښه لاره موندونکي دی له هغو کسانو څخه چه مؤمنان دی له جهته د لارې.

**تفسیر:** په دې آیت کښې هم د یهودانو د شرارت او خباثت اظهار دی، خبره دا ده کله چه د یهودانو په زړونو کښې د حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم عداوت زیات شو، نو د (مکې معظمې د مشرکانو سره مله او د هغوی سره متفق شول او د مشرکانو د خوښې او د ضرورت له مخې ئې د بتانو تعظیم وکړ او ویې ویل چه «ستاسې دین د مسلمانانو له دین څخه بهتر دی» او د دې کار سبب یوازې حسد وه او غوښتل ئې چه د نبوت او دیني ریاست پرته (علاوه) له مونږ څخنې بل چاته ولې ورکړی شوی دی؟ نو په دې مناسبت الله تعالیٰ په دوی باندې الزام آړوي او په دې آیتونو کښې هم دا خبرې مذکورې دي.

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ ؕ وَمَنْ يَّلْعَنِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ نَصِيْرًا ﴿٥٢﴾

دا (حکم کوونکي په غوره والي د کفارو) هغه کسان دي چه لعنت کړی دی (په دوی باندې) الله او هر هغه څوک چه لعنت (پرې) وکړي الله نو له سره نه مومې (ته) ده لره کوم مددګار (د عذاب دفع کوونکی).

**تفسیر:** یعني دا خلق سره له دې چه اهل کتاب دي، د نفساني اغراضو له سببه ئې د بتانو

تعظیم وکړ او د کفر طریقه ئې د اسلامي طریقې څخه افضله ښکاره کړه، نو په دوی باندې د الله تعالیٰ لعنت دی او په هر چا باندې چه الله تعالیٰ لعنت وکړي د هغه حامي او مددګار په دنیا او آخرت کښې هیڅوک نشي کیدی، نو چه اوس دوی د خپلې مرستې (مدد) په طمع د مکې‌شریفې د مشرکانو سره موافقت کړی دی دا بیخي لغو او چټي (فضول) کار دی لکه چه په دنیا کښې یهودانو ډیر زیات ذلتونه وګالل (برداشت کړل)، په آخرت کښې به هم په سختو عذابونو اخته کیږي.

أَمْ لَهُمْ نَصِيبٌ مِّنَ الْمُلْكِ فَإِذًا لَّا يُؤْتُونَ النَّاسَ نَقِيرًا ﴿٥٣﴾

آیا شته یهودانو ته څه برخه له ملکه (له سلطنته؟ یعنې نشته! او که شي) نو په دغه وخت کښې به ورنه کړي دوی خلقو ته (په اندازه د) نقیر.

**تفسیر:** یهودانو داسې خیال کاوه چه نبوت او د دین سرداري زمونږ میراث دی. او یوازې مونږ د هغه لیاقت لرو، نو ځکه به ئې د عربي نبي صلی الله علیه وسلم د منلو او متابعت کولو څخه عار کاوه او یو له بل سره به ئې ویل بالاخر حکومت او باچاهي مونږ ته رسیږي که د څو ورځو له مخې دا مشرتوب نورو ته هم وروړسیږي هیڅ پروا نشته. نو په دې نسبت دا آیت نازل شو، چه مطلب ئې دا دی «آیا یهودانو ته په سلطنت کښې څه برخه شته؟ یعنې له سره دوی په سلطنت کښې څه برخه نه لري، که دوی ته سلطنت وروړسیږي نو خلقو لره د یوې ذرې په اندازه هم فائده نه رسوي. یعنې دوی داسې بخیلان دي چه پخپله باچاهي کښې هم فقیرانو ته یوه ذره شی نه ورکوي. (حال دا چه له سلطنت سره عطاء سخا او ورکړه لازمه ده).

أَمْ يَحْسُدُونَ النَّاسَ عَلَىٰ مَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ ۖ فَقَدْ آتَيْنَا آلَ إِبْرَاهِيمَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَآتَيْنَاهُم مُّلْكًا عَظِيمًا ﴿٥٤﴾

بلکه آیا حسد کوي دغه (یهودان) خلقو سره (له محمد او اصحابو سره یې) پر هغه شي چه ورکړی دی هغو ته الله له فضل (احسان رحمت) خپل، نو په تحقیق ورکړي دي مونږ اولادې د ابراهیم ته کتاب (تورات، زبور، انجیل) او حکمت (شرعي علوم، ژورې (اوچتې) خبرې) او ورکړې دي مونږ دوی ته سلطنت ډیر لوی.

**تفسیر:** یعنې آیا که یهودان په حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم او د دوی په اصحابو

باندی د الله تعالیٰ (د نصرت، عزت، عظمت، سیادت او د نورو) فضائلو او انعامونو له لیدلو څخه له ډیری رخی (کینی) او حسده مری، نو دا بیخی د دوی لیونتوب او ناپوهی ده ځکه چه مونږ د حضرت ابراهیم علیه السلام کورنی ته (چه اسحاق، اسمٰعیل، یعقوب، یوسف، موسیٰ، داؤد، سلیمان، عیسیٰ، محمد «صلی الله علیه وسلم» او نور انبیاء علیهم السلام دی) کتاب، علم، حکمت او عظیم سلطنت عنایت کړی دی، نو بیا یهودان د څه له مخی د محمد رسول الله صلی الله علیه وآله وصحبه وسلم په نبوت او عزت باندی حسد او له دوی ځنی انکار کوی؟ ځکه چه اوس هم نبوت او عزت د ابراهیم علیه السلام په کورنی کښی دی.

فَمِنْهُمْ مَّنْ اٰمَنَ بِهٖ وَمِنْهُمْ مَّنْ صَدَّ عَنْهُ ۚ وَكَفٰى بِجَهَنَّمَ سَعِيْرًا ﴿٥٥﴾

نو ځینی له دغو یهودانو هغه دی چه ایمان ئی راوړی په محمد او ځینی له دغو (یهودانو) هغه دی چه څنګ ئی کړی دی. له محمد څخه او بس دی دوزخ (د کفارو د عذاب دپاره) ځوښ وهونکی.

**تفسیر:** یعنی د حضرت ابراهیم علیه السلام کورنی ته الله تعالیٰ تل تر تله لویی ورکړی ده. او حضرت محمد صلی الله علیه وسلم هم له همغی کورنی څخه دی، نو که څوک بی سببه یوازی د رخی (کینی) او حسد لامله (له وجی) محمد صلی الله علیه وسلم نه منی، نو د هغه د سوځولو له پاره د دوزخ لمبی وهونکی اور بس او کافی دی.

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِنَا سَوْفَ نُصْلِيْهِمْ نَارًا ۭ

بیشکه هغه کسان چه کافران (منکران) شوی دی په آیتونو زمونږ ژر به ننباسو مونږ دوی اور ته (چه پکښی سوځولی شی)

**تفسیر:** په پخوانی آیت کښی د مؤمنانو او کافرانو ذکر ؤ اوس د مطلق مؤمن او د کافر د جزا او سزا ذکر د کلیی قاعدی په ډول (طریقه) کیږی، چه د ایمان په لوری ښه ترغیب او له کفر څخه بیخی ترهیب وشی.

كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُوْدُهُمْ بَدَّلْنٰهُمْ جُلُوْدًا غَيْرَهَا لِيَذُوْقُوا الْعَذَابَ ۭ

هر کله چه پاخه شی (وسوځیږی) پوستکی د دوی (په اور کښی نو) بدلوو مونږ دوی ته پوستکی غیر له هغو، له پاره د دی چه وڅکی دوی (تل تر تله

نوی نوی) عذاب؛

**تفسیر:** یعنی د کافرانو په عذاب کښې د نقصان او کمی د نه راتللو له سببه، د دوی د پوستکی له سوځیدلو شخه وروسته، دوی ته بل پوستکی ورآغوندو او د هغه په عوض ئی ورشین کوو.
مطلب دا چه کافران به تل تر تله او یو شان په عذابونو کښې آخته او مبتلا وی.

إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿٥٦﴾

بیشکه چه الله دی ښه غالب قوی (د احکامو په انفاذ) لوی حکمت والا (چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی)

**تفسیر:** یعنی بیشکه الله تعالیٰ دیر زبردست او غالب دی. د کافرانو په هسی سزا ورکولو کښې الله تعالیٰ جل جلاله ته هیڅ کومه سختی نشته. او د حکمت خاوند دی چه کافرانو ته د خپل حکمت سره سمه دا سزا ورکوی.

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ
خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ۖ لَّهُمْ فِيهَآ أَزْوَٰجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۖ وَنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيلًا ﴿٥٧﴾

او هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه) زر به ننه باسو مونږ دوی په (هغو) جنتونو کښې چه بهیږی له لاندی د (مانیو او ونو) د دوی ویالی همیشه وی به دوی په دغو (جنتونو) کښې تل (بی انتها بلا انقطاع) وی به دوی ته په دی جنتونو کښې ښځی پاکی کړی شوی (له تولو ناپاکیو شخه) او ننه به باسو مونږ دوی په ګڼو سیورو (په دائمی نعمت او راحت).

**تفسیر:** یعنی مؤمنان به تل تر تله په جنت کښې اوسیږی. او دوی ته به هسی ښایسته ښځی ور په برخه کیږی چه له حیض، نفاس او له نورو دنیوی ککړتیاؤ څخنی به بیخی پاکی، صافی او ستره وی. دوی به په دیرو ګڼو سیورو کښې داخل کړو چه د لمر له تودوخی او نورو څخنی به بیخی محفوظ وی.

إِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمٰنٰتِ إِلٰىٓ أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ ۚ

بیشکه الله امر کوی په تاسی (ای مؤمنانو!) د دی چه وسپارئ تاسی امانتونه اهل د اماناتو ته او کله چه حکم کوئ تاسی (ای قاضیانو! ای حاکمانو!) په منځ د خلقو کښی نو (امر کوی الله چه) حکم وکړئ په انصاف سره!

**تفسیر:** په یهودانو کښی دا عادت ؤ چه په امانتونو کښی به ئی خیانت کاوه او د خصوماتو په فیصلو کښی به ئی رشوتونه اخیستل او په نورو اسبابونو سره به ئی د یوه پلو خاطر، لحاظ، رعایت کاوه او د حق په خلاف به ئی حکمونه کول. نو ځکه مسلمانان له هسی چارو څخه ممنوع گرځولی شوی دی منقول دی چه د مکی‌شریفی د فتحی په ورځ رسول الله مبارک اراده درلوده (لرله) چه (بیت الله) شریف ته دننه ننوځی د کعبی شریفی کلی (چابی) (مفتاح) ساتونکی حضرت عثمان بن طلحة رضی الله تعالیٰ عنه د کعبی شریفی د کلی (چابی) له ورکولو څخه انکار وکړ، نو (حضرت علی کرم الله وجهه) د ده له لاسه کلی (چابی) په زوره واخیستله او ور ئی پرانیست کله چه د الله تعالیٰ جل جلاله رسول صلی الله علیه وسلم د کعبی شریفی نه د باندی ووتلو حضرت عباس رضی الله تعالیٰ عنه وغوښتل چه دا د (بیت الله شریف) کلی (چابی) دی ماته راکره شی! دلته دا آیت نازل شو او کلی (چابی) بیرته همغه عثمان بن طلحة رضی الله تعالیٰ عنه ته وروسپارله شوه (او تر نن ورځی پوری هغه کلی (چابی) همغی کورنی سره پاتی ده. عثمان بن طلحة رضی الله تعالیٰ عنه به تل ویل، که زه پوهیدی چه رسول الله «صلی الله علیه وسلم» کلی (چابی) غواړی، نو کلی (چابی) به می تری منع کری نه وی!.)

إِنَّ اللّٰهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهِ ۗ إِنَّ اللّٰهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا ﴿٥٨﴾

بیشکه الله ښه شی چه پند درکوی تاسی ته په هغه سره (چه د امانتونو اداء او په عدل سره حکم کول دی) بیشکه چه الله دی ښه اوریدونکی (د تولو اقوالو) ښه لیدونکی (عالم په پټو او ښکاره ؤ)

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ چه تاسی ته د امانتونو په اداء او عدل سره حکم فرمایی، دغه تاسی ته بیخی مفید دی. او الله تعالیٰ ته ستاسی پټ او ښکاره او اوسنی او راتلونکی خبری ښی معلومی دی، نو که اوس چیری تاسی ته د امانت اداء کول یا عدل مفید معلوم نشی، نو د الٰهی حکم په

مقابل كښي، به هغه څه اعتبار ونه لري.

## يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُوا۟ ٱلرَّسُولَ وَأُو۟لِى ٱلْأَمْرِ مِنكُمْ

اى هغو كسانو چه ايمان ئى راوړى دى (اى مؤمنانو!) حكم ومنئ تاسى د الله! او حكم ومنئ تاسى د رسول (د الله) او (حكم ومنئ) د خاوندانو د حكم له تاسى (مسلمانانو يعنى حاكمانو او مشرانو!)

**تفسير:** په پخوانى آيت كښي يى قاضيانو او حاكمانو ته د عدل حكم وفرمايه اوس نورو ته د حاكمانو او قاضيانو د حكم په متابعت كولو سره حكم وركاوه كيږى چه له دى څخه دا راښكارى چه د حكامو او قاضيانو حكم منل په هلته واجبيږى چه دوى د حق اطاعت وكړى.
**(فائده):** د اسلامى باچا او د ده د وزيرانو، حاكمانو، قاضيانو، لښكرى مشرانو او د نورو واكدارانو حكم منل ضرور دى، تر څو چه دوى د الله تعالىٰ او د رسول الله صلى الله عليه وسلم له احكامو څخنى مخالف كوم حكم ونه كړى، كه د الله تعالىٰ او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د صريحو احكامو په خلاف كوم حكم وركړى، نو د دغه حكم منل له سره نه دى په كار!

## فَإِن تَنَٰزَعْتُمْ فِى شَىْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ

نو بيا كه جګړه وكړه تاسى په يوه شى كښى نو وګرځوئ تاسى دا (كار) طرف د الله ته (د الله كتاب ته). او رسول ته (د رسول الله حديث ته) كه يئ تاسى چه (په اخلاص سره) ايمان لرئ تاسى په الله او په ورځى آخرى (قيامت) باندى؛

**تفسير:** يعنى كه د تاسى او د اولوالامر په منځ كښى كوم اختلاف پيښ شى، چه د حاكم دا حكم د الله تعالىٰ او د رسول الله صلى الله عليه وسلم له حكم سره موافق دى كه مخالف؟ نو د الله جل جلاله كتاب او د رسول الله صلى الله عليه وسلم سنتو ته رجوع وكړئ! او د هغو له مخى د دى خبرى فيصله وكړئ! چه ايا هغه حكم فى الحقيقت د الله تعالىٰ او د رسول الله صلى الله عليه وسلم له حكم سره موافق دى كه مخالف؟ او هره هغه خبره چه محققه شى، نو ښايى چه هغه بالاتفاق مسلمه او معموله وګڼئ!، او ښايى چه اختلاف له منځه ورك كړئ! كه تاسى په الله تعالىٰ او د قيامت په ورځ باندى له زړه ايمان لرئ نو خامخا به د اختلاف په صورت كښى د الله تعالىٰ

او د رسول الله مبارک د حکم په لوری رجوع وکړئ! او د کتاب الله او رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنت د حکم له مخالفت ځنې به هرومرو (خامخا) ویرېږئ! چه له دی ځنې دا حکم راڅرګند شو، هر هغه څوک چه د الله تعالیٰ او د رسول الله مبارک له حکم څخه تښتی، مسلمان به نه وی نو ځکه که د دوو مسلمانانو په منځ کښې کومه جګړه پیښه شي او یو د دوی هغه بل ته ووائی راځه چه شریعت ته لاړ شو، او دا بل ووایی چه زه شریعت نه پیژنم (نستغفرالله) یا زه (نعوذ بالله) له شریعت سره څه کار نه لرم. نو هغه ته مونږ په یقین سره کافر ویلی شو.

ذٰلِكَ خَيۡرٞ وَأَحۡسَنُ تَأۡوِيلًا ﴿٥٩﴾

دغه (رجوع الله او رسول الله ته) خیر (ډیر غوره دی تاسی ته له ناقصه فکر ستاسی) او دا (رجوع) ډیره ښه ده د عاقبت له جهته.

**تفسیر:** یعنی خپل منازعات او اختلافات الله تعالیٰ او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راجع کول، او د الله تعالیٰ او رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم منل مفید دی له دی نه چه پخپلو منځونو کښې سره جګړی او شخړی (جنګونه) وکړئ!، یا له خپلی رائی سره سم کومه فیصله صادره کړئ، ځکه چه د شریعت په لوری د رجوع کولو انجام بهتر دی.

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزۡعُمُونَ أَنَّهُمۡ ءَامَنُواْ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبۡلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓاْ إِلَى ٱلطَّٰغُوتِ وَقَدۡ أُمِرُوٓاْ أَن يَكۡفُرُواْ بِهِۦۖ وَيُرِيدُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمۡ ضَلَٰلَۢا بَعِيدٗا ﴿٦٠﴾

آیا نه دی کتلی تا هغو کسانو ته چه (ظاهری) دعوی کوی دوی چه بیشکه دوی ایمان راوړی دی په هغه (قرآن) چه نازل کړی شوی دی تاته (ای محمده!) او په هغو (کتابونو) چه نازل کړی شوی دی پخوا له تانه (ای محمده!) اراده لری دوی چه وروړی (خصومت خپل) په طرف د شیطان (کعب

بن اشرف) او په تحقیق حکم کړی شوی دی دوی ته چه کافر دی شی دوی په ده سره (وویی نه منی) او اراده لری شیطان دا چه گمراه کړی دوی په گمراهی لری سره (له حقه).

**تفسیر:** یهودان د خصوماتو په فیصله کولو کښی له رشوت او مراعات سره عادی شوی وو. ځکه هغه کسان چه دروغجن، منافقان او خائنان به وو، نو دوی به خپلی دعوی او جګړی یهودی عالمانو ته وړلی او یهودیان به ئی غوره کول چه هغوی به د دوی رعایت او خاطر کاوه نو داسی خلق تاسی ته ای محمده! صلی الله علیه وسلم د خپلی معاملی راوړل. نه خوښوی، ځکه چه تاسی د حقانیت رعایت کوئ!. او د بل هیڅا رعایت له سره نه کوئ! په (مدینی منوری) کښی د یوه یهودی او د یوه منافق په منځ کښی (چه له ورایه د مسلمان په شان ښکاریده) په کومه خبره باندی جګړه پیښه شوه. یهودی چه په رښتیا ؤ، ویی ویل «راشه! چه محمد ته لاړ شو!» منافق چه په ناحقه ؤ ویی ویل «راځه! چه (کعب بن اشرف) ته لاړ شو!» چه د یهودانو عالم او مشر ؤ بالاخر دوی دواړه د رسول الله مبارک په حضور کښی حاضر شول. رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د جګړی د پیښی له اوریدلو څخه وروسته د یهودی حق ثابت کړ. کله چه دوی دواړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له حضوره د باندی ووتل منافق وویل «راځه! چه حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه ته ولاړ شو!، هره فیصله چه حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه وکړه همغه به سره ومنو! او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په فیصله راضی نشو او قناعت ئی ونه کړ. اغلباً ده به هسی گڼلی وی چه څرنګه زه د اسلام مدعی یم. نو خامخا به حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه د دی یهودی په مقابل کښی زما رعایت کوی، نو حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه ته ولاړل چه د نبوی صلی الله علیه وسلم په حکم به ئی د (مدینی منوری) فیصلی صادرولی، کله چه حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه دغه جګړه واوریده او د یهودی له بیان څخه ورښکاره شوه چه دا جګړه د رسول الله مبارک حضور ته هم رسیدلی او رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغی قضیی په نسبت خپله فیصله هم صادره کړی ده او د حضرت نبوی له فیصلی سره سم په دغه جګړه کښی هغه یهودی رښتینی او غالب پیژندل شوی دی. نو حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه دغه منافق وواژه او ویی فرمایل «څوک چه د داسی یو حقانی قاضی فیصله ونه منی، نو د هغه فیصله دی په دی ډول (طریقه) سره وکړه شی!» د دی منافق مقتول وارث د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حضور کښی راغی او په حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه باندی ئی د قتل دعویٰ دائره کړه او قسمونه ئی یاد کړل. چه دی حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه ته د دی لامله (له وجی) تللی ؤ چه ښایی هغه به دی معامله کښی د دوی په منځ کښی روغه او صلح وکړی. او داسی نه و چه هغه د رسول الله مبارک له فیصلی څخنی انکار او غاړه غړولی وه. نو دلته دا آیتونه نازل شول او په دی آیتونو کښی اصل حقیقت ښکاره کړی شو. او د حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه لقب «فاروق» وټاکل (مقرر) شو.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَىٰ مَا أَنزَلَ اللَّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ رَأَيْتَ الْمُنَافِقِينَ يَصُدُّونَ عَنكَ صُدُودًا ﴿٦١﴾

او کله چه وویل شی دی (منافقانو) ته راځئ! طرف د (حکم د) هغه (کتاب) ته چه نازل کړی (رالیږلی) دی. الله (یعنی قرآن ته) او طرف د (حکم د) رسول (د ده) ته (د جګړی د فیصلی له پاره) نو ګوری به ته منافقان چه ګرځی به له تا (له ډیری دشمنی) په ګرځیدلو سره.

**تفسیر:** یعنی که په کومه جګړه کښی منافقانو ته وویل شی چه «د هغه حکم په لوری راشئ! چه د الله تعالیٰ له لوری نازل شوی دی او د هغه د رسول په مخ کښی خپلی جګړی وړاندی کړئ!» کله چه دوی ظاهراً د اسلام مدعیان دی. نو ځکه په صاف ډول (طریقه) سره انکار نشی کولی، مګر ستاسی په حضور کښی د راتللو او د الله جل جلاله د حکم له منلو څخه ځانونه ژغوری (بچ کوئ) او بیرته ستنیږی (واپس کیږی)، او غواړی چه په کوم چل او فریب سره ځان تری ګوښه (بیل) کړی. او له رسول الله مبارک څخه پرته (علاوه) بل کوم ځای ته چه د دوی زړونه ئی غواړی لاړ شی او هلته خپلی جګړی فیصله کړی.

فَكَيْفَ إِذَا أَصَابَتْهُم مُّصِيبَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ثُمَّ جَاءُوكَ يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ إِنْ أَرَدْنَا إِلَّا إِحْسَانًا وَتَوْفِيقًا ﴿٦٢﴾

نو څه به وی (حال د دوی) کله چه ورسیږی دوی ته کوم مصیبت (د منافق د وژلو غم) په سبب د هغو (ګناهونو) چه وړاندی لیږلی دی لاسونو د دوی (چه د رسول الله د حکم نه منل دی) بیابه راشی دوی تاته (ای محمده!) چه قسمونه به خوری په الله چه اراده نه وه کړی مونږ (عمر ته په ورتلو) مګر د ښیګنی (اصلاح) او موافقت (د جګړه کوونکو ـ نه مخالفت ستا)

**تفسیر:** یعنی دا ګردی (تولی) خبری خو وشوی مګر دا منافقان به هلته څه وکړی چه دوی ته د دوی د اعمالو په بدل کښی عذاب وورسیږی. یعنی د خصوماتو په فیصلو کښی ستاسی په حضور کښی له راتلو څخه ویریږی او بیرته ځان کوی او کله چه پر دوی باندی عذاب نازل شی نو هلته به دا منافقان څه وکړی شی پرته (علاوه) له دی چه د رسول الله مبارک په خدمت کښی راشی او

قسمونه وخوری چه مونږ د حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه خدمت ته یوازی د دی مقصد له پاره تللی وو، چه ښائی هغه زمونږ په منځ کښی صلحه (روغه) وکړی او زمونږ مقصود له سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم له ارشاد ځنی ځان ژغورل (ساتل) یا غاړه غړول او اعراض نه ؤ.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ يَعْلَمُ اللَّهُ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَعِظْهُمْ وَقُل لَّهُمْ فِي أَنفُسِهِمْ قَوْلًا بَلِيغًا ﴿٦٣﴾

دغه (منافقان) هغه کسان دی چه معلوم دی الله ته هغه شي (هم) چه په زړونو د دوی کښی دی نو څنګ (تغافل) وکړه ! له دوی څخه (او ناحقه معاذیر (عذرونه) ئی مه منه!) او پند ورکړه دوی ته او ووایه (ای محمده !) دوی ته په حق د نفسونو د دوی کښی خبره بلیغه (تاثیرناکه).

**تفسیر:** په دی آیت کښی حق تعالیٰ د دوی د قسم او د پخوانی معذرت تکذیب وفرمایه چه منافقین هره خبره چه جوړوی هغه دی جوړه کړی الله تعالیٰ ته د دوی د زړونو خبری ښی ښکاره دی. یعنی د دوی نفاق او دروغ او نوری پلمی (تلبیرونه) ډیری ښی ورته معلومی دی. نو اوس د الله تعالیٰ پر حکم باندی اکتفاء او د منافقانو له خبرو ځنی تغافل وفرمایه! او د دوی په خبرو باندی هیڅ غوږ مه پرده! مګر دوی ته په پند ورکولو او د خبرو په ورښوولو کښی هیڅ تقصیر مه فرمایه!. او د دوی له هدایت څخه مه ناامیده او مه مأیوس کیږه!.

وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذْنِ اللَّهِ ۚ وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُوا أَنفُسَهُمْ جَاءُوكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللَّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُوا اللَّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا ﴿٦٤﴾

او نه دی لیږلی مونږ هیڅ رسول مګر (لیږلی مو دی) د دی له پاره چه حکم ومانه شي د ده په اذن (حکم فرمائلو) د الله سره او که بیشکه دغه (منافقان) کله چه ظلم وکړی دوی پر ځانونو خپلو (په منلو د حکم ستا) راغلی وی تاته پس مغفرت غوښتی وی دوی له الله او مغفرت غوښتی وی دوی ته رسول (د الله هم) نو خامخا به موندلی ؤ دوی الله ښه قبلوونکی د توبی

دیر رحم والا (د اجر او ثواب په انعام سره).

تفسیر: یعنی الله جل جلاله هر هغه رسول چه د خپلو بندګانو په لوری لیږی، نو په دی غرض ئی لیږی، چه د الله جل جلاله له حکم سره سم ګرد (تول) بندګان د هغه خبری ومنی نو دا ضروری وه چه دی خلقو هم د رسول الله مبارک ارشاد د زړه له کومی، بی تأمله لا له پخوا څخه منلی وی او که له ګناه او خرابی کولو څخه وروسته هم ویښ او متنبه شوی وی او له الله تعالیٰ څخه ئی معافی غوښتی وی او رسول الله صلی الله علیه وسلم هم د دوی له پاره د معافی دعا کړی وی نو الله تعالیٰ به د دوی توبه قبوله کړی وی مګر دوی داسی خراب کار وکړ، چه اول ئی د (رسول الله) له حکم څخه چه عیناً د الله تعالیٰ حکم ؤ، غاړه وغړوله، نو کله چه د هغه وبال پر دوی باندی ولوید، بیا هم متنبه او تائب نشول، بلکه د دروغو په قسمونوئی لاسونه پوری کړل،او په بی ځایه تأویلاتو پسی ولویدل، نو دداسی کسانو مغفرت به په څه دول (طریقه) سره وشی؟

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ﴿٦٥﴾

پس قسم دی په رب ستا چه نه مؤمنان کیږی دوی تر هغه پوری چه حکم (منصف) کړی دوی تاپه هغه جګړه کښی چه پیښه شوی ده په منځ د دوی کښی بیا ونه مومی دوی په نفسونو (زړونو) خپلو کښی خپګان (تنګی - ناراضی) له هغه شی چه حکم (فیصله) کړی وه تا او (وبیی) منی دوی په منلو سره «بی له جګړی په خوښی سره».

تفسیر: یعنی منافقان څومره بیهوده خیاله دی؟ او څومره خوشی چتی (بیکاره) پلمی (تلبیرونه) او حیلی جوړوی؟ دوی دی ښه وپوهیږی چه مونږ په خپل ذات قسم کړی چه ای رسوله! تر څو چه دوی پخپلو وړوکو او لویو مالی او جانی جګړو او خصوماتو کښی تا منصف او حاکم ونه ګڼی. او ستاسی له فیصلو او حکمونو څخه د دوی په زړونو کښی هیڅ یو قسم خپګان او تنګی او ناخوښی رانه شی. او ستاسی هر حکم په خوښی سره ونه منی او له زړه ئی قبول نه کړی. ظاهراً او باطناً تاته غاړه کیږدی تر هغه پوری دوی ته ایمان له سره په برخه کیدی نشی. اوس هر هغه شی چه کوڅ ځائی چه په ښه فکر او پوهی سره ئی وکړئ!.

وَلَوْ اَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ اَنِ اقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ اَوِ اخْرُجُوْا مِنْ دِيَارِكُمْ
مَّا فَعَلُوْهُ اِلَّا قَلِيْلٌ مِّنْهُمْ ؕ وَلَوْ اَنَّهُمْ فَعَلُوْا مَا يُوْعَظُوْنَ بِهٖ لَكَانَ
خَيْرًا لَّهُمْ وَاَشَدَّ تَثْبِيْتًا ﴿٦٦﴾ وَّاِذًا لَّاٰتَيْنٰهُمْ مِّنْ لَّدُنَّآ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿٦٧﴾
وَّلَهَدَيْنٰهُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ﴿٦٨﴾

او كه په تحقيق مونږ فرض كړى وى پر دغو (مدعيانو د ايمان) دا چه مړه كړئ تاسى ځانونه خپل! يا ووځئ تاسى له كورونو! خپلو! (لكه چه بنى اسرائيلو ځانونه وژلى او وتلى وو) نو نه به ؤ كړى دوى هغه (قتل او جلا (جدا) مگر لږو كسانو له دوى نه او كه په تحقيق دوى كړى وى هغه چه پند وركاوه شى دوى ته په هغه سره نو خامخا به ؤ دا كار خير (ډير غوره) دوى ته او ډير به كلك ؤ له جهته د محكموالى (د ايمان)، او په دغه وخت كښې به خامخا وركړى ؤ مونږ دوى ته (خاص) له خپله درباره اجر (ثواب) ډير لوى «جنت او نور» او خامخا به برابر كړى (بيولى) ؤ مونږ دوى لارى سمى ته (او رسيدل به خپل مقصود ته).

**تفسير:** يعنى څرنگه چه د گردو (ټولو) ارواحو او اجسامو مالک الله تعالىٰ دى، نو ځكه د ده د حكم په مقابل كښې هيڅ لره نه ښائى چه خپل ځان وسپموى (منع كړى) كه الله (جل وعلىٰ شانه) دى خلقو ته د خپلو ځانونو د وژلو امر يا يى، د وطن د جلا (جدا) كيدلو حكم وركړى وى لكه چه په بنى اسرائيلو باندى ئى حكم فرمايلى ؤ، نو دا حكم به پرته (علاوه) له څو تنو صادقو ايمان لرونكو نورو په ځاى نه راوړ نو دا منافقان د داسى حكمونو تعميل كله كولى شى. اوس دوى وپوهوه! كوم حكم چه مونږ د دوى په نسبت وركړى دى، هغه يوازې د دوى د پند او خير غوښتلو له پاره دى. نه د ځان د هلاكولو حكم دوى ته وركړى شوى دى. او نه له وطن څخنى د جلا (جدا) كيدلو. كه دوى په دى سهل او آسانه حكمونو باندى تگ وكړى، نو نفاق به بيخى ورک شى او دوى به خالص مسلمانان شى، مگر افسوس چه دوى نه پوهيږى او موجوده حالت غنيمت نه گڼى، چه په لږ اخلاص او ښه عمل سره دوى ته د دين او دنيا ښيگڼى (فائدے) ور په برخه كيږى.

وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ ۚ وَحَسُنَ اُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا ﴿٦٩﴾

او هر څوک چه حکم ومني د الله او د رسول (د الله) نو دغه کسان به له هغو سره وي (په جنت کښې) چه انعام کړی دی الله پر دوی باندې چه انبياء دی او صديقان دی او شهيدان دی او صالحان دی، او ښه دی دغه کسان له جهته د رفاقته (چه ښه ملګري دی).

**تفسير:** «نبی» هغه دی چه د الله جل جلاله «وحی» پرې راځي. يعني پرښته ظاهراً د پاک الله پيغام ورته وائي. «صديق» هغه دی چه هغه پيغام او احکام چه د الله تعالیٰ له لوري رسولانو ته راځي، د ده زړه پخپله په هغه باندې شهادت ورکړي او بې له دليله د هغه تصديق وکړي.
«شهيد» هغه دی چه د الله تعالیٰ او انبياؤ عليهم السلام په احکامو خپل ځان په شهادت ورسوي او تل ورته حاضر وي.
«صالح» او نيک بخت هغه دی چه د هغه طبيعت يواځې پر نيکۍ پيدا شوی وي او له خرابو خبرو ځني ئې خپل نفس او بدن اصلاح او صفا کړی وي.
مطلب دا چه دا څلور واړه ياد شوي قسمونه د امت له نورو افرادو ځني افضل دي، ځکه چه د دوی ګرد (ټول) اقوال، افعال او احوال له شرعي سره موافق دي او پرته (علاوه) له دوی ځني نور مسلمانان که څه هم له دوی سره په درجه کښې برابر نه دي، خو که د الله تعالیٰ او د پاک رسول په امر منلو کښې مشغول وي نو دا کسان هم د هم دوی په ذيل کښې راځي. او د دې حضراتو رفاقت د ډيرې ښيګڼې (فائدې) او د فضيلت خبره ده او هيڅوک دې هغه حقير ونه ګڼي.
**(فائده):** په دې آيت کښې دې ته اشاره ده هغه منافقين چه د هغوی ذکر شوی يا کيږي له دې رفاقت او معيت څخه بې برخې دي.

ذٰلِكَ الْفَضْلُ مِنَ اللّٰهِ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ عَلِيْمًا ﴿٧٠﴾

دا (ملګرتيا) فضل (احسان، رحمت) دی له «جانبه د» الله نه او کافي دی الله ښه پوه (په ټولو نيتونو او عملونو هم).

**تفسير:** يعني د الله تعالیٰ او د پاک رسول حکم منونکو ته د انبياؤ عليهم السلام او صديقانو

رضی الله تعالیٰ عنهم او شهیدانو رحمة الله علیهم او صالحانو رحمة الله علیهم رفاقت میسر کیدل د الله تعالیٰ لوی انعام او د ده محض فضل دی. او د دوی د اطاعت په عوض کښی نه دی. نو له هغه څخنی منافقان بیخی محروم دی. او الله کافی دی. ښه پوهیدونکی او ښه خبر لرونکی چه د هر مخلص او منافق احوال او د هر مطیع طاعت او د ده د طاعت اصلی استحقاق او د فضل مقدار مفصلاً ورمعلوم دی، نو اوس دی هیڅ ته د دی امورو د تفاصیلو له امله (وجی) د الله جل جلاله د وعدی په پوره کیدلو کښی څه اندیښنه او خلجان پیدا نشی.

يَآأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا خُذُوا حِذْرَكُمْ فَانْفِرُوا ثُبَاتٍ أَوِ انْفِرُوا جَمِيعًا ﴿٧١﴾

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (ای مؤمنانو!) واخلئ تاسی وسلی خپلی (یا ځان له کفارو وساتئ! او ورته هوښیار ؤسئ!) بیا ووځئ تاسی (غزا ته) ډلی ډلی (جلا جلا (جداجدا) فوځ) یا ووځئ تاسی ګرد (ټول) سره یو ځای.

**تفسیر:** دلته د «جهاد» ذکر شروع کیږی. په پخوانی آیت کښی ذکر شوی ؤ هر هغه څوک چه د الله جل جلاله او د ده د رسول احکام ومنی، نو ده نه به د انبیاؤ علیهم السلام صدیقانو رضی الله تعالیٰ عنهم شهیدانو رحمة الله علیهم او صالحانو رحمة الله علیهم د رفاقت انعام وررسیږی. څرنګه چه د الله تعالیٰ په احکامو کښی د «جهاد» حکم شاق او ډیر سخت او درووند دی په تیره بیا د هغو منافقینو له پاره چه ذکر ئی له پاسه راهیسی دوام لری نو ځکه ئی د «جهاد» حکم صادر کړ څو هر څوک د حضرات انبیاؤ علیهم السلام، صدیقانو رضی الله تعالیٰ عنهم، شهیدانو رحمة الله علیهم او صالحانو رحمة الله علیهم د ملګرتوب او معیت خوشی چتی (بیکاره) امید او هیله ونه کړی. منقول دی چه د اسلام په شروع کښی ډیرو ضعیف الاسلام کسانو هم اسلامی دعوت منلی ؤ خو کله چه «جهاد» فرض شو نو ځینی کسان متزلزل او وارخطا او ځینی له کفارو سره ملګری شول او د رسول الله مبارک په مخالفت ئی بنا وکړه. نو دا آیت نازل شو. مطلب ئی داسی دی چه «ای مسلمانانو! د منافقانو کیفیت خو تاسی ته لا له پخوا څخه معلوم شوی دی او ستاسی خیر په دی کښی دی چی تاسی د خپلو ځانونو هر قسم مدافعه وکړی او له باخبری او احتیاط څخنی کار واخلئ! اعم له دی چه دا کار د وسلی په قوت سره وی. که د تدبیر یا د عقل او سامان په وسیله. او د دښمنانو د مقابلی له پاره له کوره د باندی ووځئ! په متفرق صورت، یا د جمیعت په ډول (طریقه)، څنګه چه موقع وی.

وَإِنَّ مِنْكُمْ لَمَنْ لَيُبَطِّئَنَّ

او بیشکه ځینی له تاسی خامخا هغه څوک دی چه هرومرو (خامخا) تاخیر به کوی (په تللو کښی غزا ته)

**تفسیر:** یعنی ای مسلمانانو! ستاسی په جمعیت کښی ځینی هغسی کسان هم ننوتلی دی چه د «جهاد» په تللو کښی ځند (ډیل) کوی او بیرته تری پاتی کیږی، او د الله جل جلاله د حکم تعمیل نه کوی، بلکه دنیوی منافعو ته ئی سترگی نیولی دی او له دوی څخه مراد منافقان دی لکه (عبدالله بن ابی) او د هغه ملگری چه دی خلقو په ښکاره سره اسلام منلی ؤ مگر د دوی مقصود له دی خبرو څخه فقط دنیوی منافع وو او د الله تعالیٰ له امر منلو سره ئی هیڅ ارتباط او علاقه نه وه.

فَإِنْ أَصَابَتْكُم مُّصِيبَةٌ قَالَ قَدْ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيَّ إِذْ لَمْ أَكُن مَّعَهُمْ شَهِيدًا ﴿٧٢﴾

نو که ورسیږی تاسی ته کوم مصیبت (لکه قتل یا هزیمت) نو وایی دا (متخلف منافق) په تحقیق انعام (فضل، احسان) کړی دی الله پر ما باندی ځکه چه نه وم (زه) له دوی سره حاضر (په جهاد کښی).

**تفسیر:** پخوا تیر شو چه منافقانو به «د جهاد» د تللو په وخت کښی ځند (ډیل) کاوه او د مجاهدینو بری او ماتی ته به ئی ردی سترگی نیولی وی چه پر دوی باندی به څه شیان پیښیږی اوس فرمایی وروسته د غزا له ورتللو به که مسلمانانو ته په «جهاد» کښی کوم ربړ (تکلیف) ورپیښیده، لکه چه زخمیان یا شهیدان کیدل یا به ئی ماتی موندله، نو منافقان به ډیر خوشالیدل او ویل به ئی چه د الله تعالیٰ لوی فضل ؤ چه په جنگ کښی مونږ له دوی سره یو ځای نه وو که نه زمونږ هیڅ خیر پکښی نه ؤ. ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ چه په ښه چم (چل) سره تری خلاص شو.

وَلَئِنْ أَصَابَكُمْ فَضْلٌ مِّنَ اللَّهِ لَيَقُولَنَّ كَأَن لَّمْ تَكُن بَيْنَكُمْ
وَبَيْنَهُ مَوَدَّةٌ يَا لَيْتَنِي كُنتُ مَعَهُمْ فَأَفُوزَ فَوْزًا عَظِيمًا ﴿٧٣﴾

او که ورسیږی تاسی ته فضل (احسان، رحمت) له (طرفه د) الله (لکه فتح یا غنیمت) نو خامخا به وایی هرومرو (خامخا) دا (متخلف منافق) چه گواکی

نه وه په منځ ستاسي او په منځ د ده کښي هيڅ دوستي (او وايي به) اى
کاشکى زه (هم) وى له دوى سره نو بريالى (کامياب) شوى به وم په برى
ډير لوى سره (له غنائمو)

تفسير: يعني که په مسلمانانو باندى د الله تعالىٰ فضل وشي لکه چه برى ومومي يا د غنيمت ډير مال لاس ته ورشي نو منافقان ډير خپه کيږى لاسونه سره مښي(مروړى)، غاښونه چيچي او لکه دښمنان د حسد او رخي (کينى) د غلبي له کبله (وجي) وايي «هى! د افسوس ځاى دى! چه مونږ ولي له مسلمانانو سره په «جهاد» کښي شريکان نشو او له دى لويي ولجي (غنيمت) او برى څخه خوشي چتي (بيکاره) بى برخي پاتي شو که مونږ له مسلمانانو سره ملګرتوب کړى وى نو د لوټ او تاراج زيات مال به مو په لاس راغلي وى». يعني منافقانو ته به يواځي په خپله محرومي باندى افسوس نه وى بلکه له خپلي محرومي څخه به زيات د مسلمانانو پر برى باندى لا ډير زيات د حسد په رنځ او اضطراب کښي لويږى. (نو الله تعالىٰ فرمايي)

فَلْيُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يَشْرُونَ الْحَيَوٰةَ الدُّنْيَا بِالْآخِرَةِ ۚ وَمَن يُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيُقْتَلْ أَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٧٤﴾

پس جنګ دى وکړى په لاره د الله کښي هغه کسان چه خرڅوى دوى حيات دنيوى (ژوندون لږ خسيس) په آخرت او هر څوک چه جنګ وکړى په لاره د الله کښي (د دين د ترقي له پاره) پس شهيد کړى شي يا غالب (غازى او بريالى (کامياب) شي پر دښمن) نو ژر به ورکړو مونږ ده ته اجر ډير لوى (چه جنت دى).

تفسير: يعني که دا منافقان له «جهاد» څني ځانونه ژغورى (ساتى) ودى ژغورى (ودى ساتى) او که د دنيا سرو او تودو سره علاقه لرى ودى لرى!، مګر هغو کسانو ته چه د آخرت په مقابل کښي ئى دنيا په لته وهلى ده، ښايي چه د الله جل جلاله په لاره کښي بى تأمله وجنګيږى!، او د دنيا ژوندون او د هغه مال او دولت ته دى ونه ګورى!، او ودى پوهيږى چه د الله تعالىٰ په اطاعت او حکم منلو کښي هر ډول (طريقه) ګټى (فائدى) شته. دوى غالب وى که مغلوب مال ئى په لاس ورشي که نه.

وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ
وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ
هٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا ۚ وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ
وَلِيًّا ۚ وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ نَصِيرًا ﴿٧٥﴾

او څه مانع ده تاسی ته چه جنګ نه کوئ تاسی په لاره د الله کښی (د دین د ترقی له پاره) او په (خلاصولو) د ضعیفانو کښی چه سړی دی او ښځی دی او هلکان دی هغه کسان چه وایی دوی «ای ربه زمونږه! وباسه مونږه له دی کلی (د مکی) څخه! چه ظالمان دی اوسیدونکی د هغی او وګرځوه مونږ ته له خپله درباره کوم ولی (حامی، ساتونکی)! او وګرځوه مونږ ته له خپله درباره کوم مددګار!»

**تفسیر:** یعنی ستاسی جنګیدل له کفارو سره دوه جهته ضروری دی

(۱): د الله تعالیٰ د دین د لوړولو او غالبولو په غرض.

(۲): د هغو مظلومو مسلمانانو د خلاصولو دپاره چه د کافرانو په لاسونو کښی خوارو زار پراته دی. په مکیٔمعظمی کښی، ډیر داسی مسلمانان وو چه زمونږ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ئی د مدینی منوری په لوری «هجرت» ونشو کړی. او کفارو د دغو مسلمانانو خپلوان ربړول (کړول). او دی ته ئی مجبورول چه بیرته کافران شی، نو پاک الله مسلمانانو ته امر وکړ چه تاسی ته په دوه ؤ سببونو له کافرانو سره جنګیدل ضرور دی

(۱): چه د الله تعالیٰ دین لوړ شی.

(۲): چه مظلوم او کمزوری مسلمانان د مکیٔشریفی د کفارو له ظلم څخنی وژغورل (وساتل) شی. (چه هغه ضعیفان له مسلمانانو سریو څخنی سلمه، ولید، عباس او ابو جندل او نور رضی الله عنهم او له مسلمانانو هلکانو او ښځو څخنی ابن عباس او د ده مور او نور رضی الله تعالیٰ عنهم وعنهن وو.)

الَّذِينَ آمَنُوا يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ ۖ وَالَّذِينَ كَفَرُوا

يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ الطَّاغُوْتِ فَقَاتِلُوْٓا اَوْلِيَآءَ الشَّيْطٰنِ ۚ اِنَّ كَيْدَ الشَّيْطٰنِ كَانَ ضَعِيْفًا ﴿٧٦﴾

هغه کسان چه ایمان لرونکی دی جنګ کوی دوی په لاره د الله کښې (د دین د ترقی له پاره) او هغه کسان چه کافران شوی دی جنګ کوی دوی په لاره د شیطان کښې نو جنګ وکړئ تاسی له دوستانو د شیطان سره !، بیشکه چه مکر د شیطان دی ضعیف.

**تفسیر:** یعنی څنګه چه دا خبره ښکاره ده چه مسلمانان د الله تعالیٰ په لاره کښې او کافران د شیطان په لاره کښې جنګیږی نو بیا مسلمانانو ته د شیطان له دوستانو یعنی کافرانو سره بلا تأمل جنګیدل ضروری دی. هر کله چه الله جل جلاله د دوی مددګار دی نو نور هیڅ ډول (طریقه) تردد نه دی پکار. او وپوهیږئ چه د شیطان حیله او فریب کمزوری او ضعیف دی او پر مسلمانانو باندی نه چلیږی. له دی څخه مقصد جهاد ته د مسلمانانو ترغیب او تشجیع ده، چه د هغه ذکر بالتصریح په راتلونکو آیتونو کښې راځی.

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ قِيْلَ لَهُمْ كُفُّوْٓا اَيْدِيَكُمْ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ۚ

آیا نه دی کتلی تا (نه دی رسیدلی تاته حال د) هغو کسانو چه وویل شو دوی ته ونیسئ تاسی لاسونه خپل (له جنګه په مکه کښې) او قائموئ (سم اداء کوئ سره له تولو حقوقو) تاسی لمونځ او ورکوئ! تاسی زکوٰة !

**تفسیر:** په مکیٔ‌معظمی کښې پخوا له هجرته کافرانو مسلمانان ربړول (کړول) او هغوی ته راز راز (قسم قسم) مشکلات وررسیښول او پر دوی باندی ظلم او تیری کول ئی خپل کار ګرځولی ؤ مسلمانان به زمونږ د پاک رسول الله حضور ته ورتلل او شکایتونه به ئی وړاندی کول او اجازه به ئی غوښتله چه له کفارو سره مقاتله وکړی او له دوی څخه د ظلم بدل واخلی. رسول الله مبارک به مسلمانان له مقاتلی څخه منع کول او ویل به ئی چه «ماته لا د مقاتلی حکم نه دی راکړی شوی تاسی صبر وکړئ! او حوصله له لاسه مه باسئ! ځکه پر مونږ باندی د صبر او ثبات او استقامت حکم شوی دی او د لمانځه او زکوٰة هغه حکمونه چه په تاسی باندی شوی دی هغه برابر په ځای راوړئ! ځکه تر څو چه انسان د الله تعالیٰ په اطاعت کښې له خپل نفس سره «جهاد»

ونه کړی او د جسمانی تکاليفو په ګاللو (برداشت) عادی (روږدی)، او د خپل مال په صرفولو زړور نشی، نو ده ته «جهاد» او خپل ځان جارول (قربانول) ډير درونډ وی.» هم دا خبره مسلمانانو هم منلی وه (چه لمونځ کوو! زکوٰة ورکوو! او «جهاد» ته منتظر يو!)

فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَخْشَوْنَ النَّاسَ كَخَشْيَةِ اللَّهِ أَوْ أَشَدَّ خَشْيَةً ۚ وَقَالُوا رَبَّنَا لِمَ كَتَبْتَ عَلَيْنَا الْقِتَالَ لَوْلَا أَخَّرْتَنَا إِلَىٰ أَجَلٍ قَرِيبٍ ۗ

نو كله چه (په مدينه كښې) فرض كړ شو په دوی باندی (له كفارو سره) جنګ په دی وخت كښې يوه ډله له دوی نه ويريدله له خلقو نه په شان د ويرې (د دوی) له الله نه بلكه ډير زيات له جهته د ويرې او ويی ويل دوی ای ربه زمونږه ! ولی دی فرض كړ په مونږ باندی جنګ، ولی دی وروسته نه كړو مونږ تر هغی نيتی نژدی پوری.

**تفسير:** يعنی له هجرت وروسته كله چه مسلمانانو ته له كفارو سره د جنګيدلو حكم وركړ شو نو بايد چه مسلمانان خوشاله شوی وی چه زمونږ غوښتنی ومنلی شوی او خپلو مرادونو ته ورسيدو. مګر ځنی ناقص مسلمانان د كفارو له مقاتلی ځنی داسی وويريدل لكه چه څوك د الله تعالیٰ له عذابه ويريږی يا له هغه څخه هم زيات وويريدل او هيله او آرزو به ئی كوله كه د لږ څه مودی له مخه بيا هم د قتال امر تال وخوری او لږ څه وځنډيږی (وروستو شی) ښه به وی چه مونږ ژوندی پاتی شو. (ځينی مفسرين ليكی چه له مرګ څخه دا ويره د طبيعی كراهت له امله (وجی) وه نه د الله تعالیٰ له حكم څخه د غاړی غړولو له كبله(وجی).

قُلْ مَتَاعُ الدُّنْيَا قَلِيلٌ وَالْآخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ اتَّقَىٰ وَلَا تُظْلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٧٧﴾

ووايه (ای محمده ! دغو ويريدونكو ته) متاع (فائده) د دی دنيا ډيره لږه ده او آخرت ډير غوره دی هغه چاته چه ويريږی (له الله نه)؛ او ظلم به ونه كړی شي پر تاسی (په اندازه) د يوه ډير نری تار.

**تفسیر:** یعنی څرنګه چه د ژوندانه او د دنیوی منافعو د رغبت له امله (وجی) دی خلقو ته د «جهاد» حکم درووند ښکاره شو، نو ځکه حق تعالیٰ فرمایی چه دوی ته ووایه دنیوی ګرد (تول) منافع حقیر او سریع الزوال دی. او اخروی ثواب هغو ته ښه او بهتر دی چه د الله تعالیٰ له نافرمانی څخنی ځانونه ژغوری (ساتی)، نو تاسی لره ښائی چه د دنیوی منافعو لحاظ ونه کړئ!، او د الله تعالیٰ له فرمانه غاړه ونه غړوئ!، او له غزا کولو څخه ونه ویریږئ! او داده اوسئ چه تاسی ته د دی ربړ (تکلیف) او زیار (محنت) ایستلو او ځان جارولو (قربانولو) پوره ثواب دررسیږی او ستاسی یوه ذره اجر هم نه ضائع کیږی، نو ښائی چه تاسی په پوره شوق او همت سره په «جهاد» کښی مصروف شئ! (او یقین وکړئ! چه پر تاسی باندی به په اندازه د هغه دیر نری تار چه د خرما د زړو په چاودونو کښی دی او د ګوتی په مښلو سره څرګندیږی ظلم ونه کړی شی).

---

أَيْنَ مَا تَكُونُوا يُدْرِكْكُمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنْتُمْ فِي بُرُوجٍ مُشَيَّدَةٍ ۗ

---

هر چیرته چه اوسئ تاسی وبه مومی تاسی لره مرګ اګر که اوسئ تاسی په برجونو (په کلاګانو، مانیو) ډیرو لوړو محکمو مضبوطو کړی شویو کښی؛

---

**تفسیر:** یعنی که هر څومره مضبوط، محفوظ، مأمون او بی ویری ځای کښی واوسیږئ خو بیا هم د مرګی له لاسه ځان نه شئ ژغورلی (محفوظولی) او هرومرو (خامخا) مرګ تاسی ته دررسیږی. ځکه چه هر یوه لره موت مقدر او مقرر شوی دی او په خپل وخت کښی خامخا هر چاته هر چیری راتلونکی دی نو که «جهاد» ته هم لاړ نشئ خو بیا هم له موت څخه له سره ځان نشئ ژغورلی (بچ کولی) خو اوس له جهاده مه ویریږئ! ځکه چه له موت او د کافرانو له مقاتلی څخه ویریدل بیخی ناپوهی او په اسلام کښی د مسلمانانو د نقصان دلیل دی.

---

وَإِنْ تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ يَقُولُوا هَٰذِهِ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ ۖ وَإِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَقُولُوا هَٰذِهِ مِنْ عِنْدِكَ ۚ

---

او که ورسیږی دوی ته څه نیکی (لکه پراخی) نو وایی دوی دا (نیکی) له (جانبه د) الله ده او که ورسیږی دوی ته څه بدی (لکه قحط) نو وایی دوی دا (بدی) له جانبه ستا ده؛

**تفسیر:** یعني د دی منافقانو یوه بله عجیبه خبره واوره! که د جنګ تدبیرونو ښه نتیجه ورکړه او فتح او بری حاصل شو او مسلمانانو ته د غنیمت او ولجې مالونه په لاس ورغلل نو وایي «دا د الله له لوري دی» یعني یوه اتفاقي خبره پېښه شوې ده او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له تدبیرونو څخه انکار کوي او که تدبیر په ظاهر کښې نتیجه ورنه کړه او د هغه له امله (وجې) هزیمت او نقصان پېښ شو نو دلته د رسول الله صلی الله علیه وسلم په تدبیرونو باندې الزامات لګوي. (یهودانو) به ویل «له هغه کال څخه چه د محمد قدم په مدینه ایښود شوی دی د غلو نرخونه پورته او د ځمکې او د باغونو حاصلات شکته شوي دي!»

قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِندِ اللَّهِ ۖ فَمَالِ هَٰؤُلَاءِ الْقَوْمِ لَا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ حَدِيثًا ﴿٧٨﴾

ووایه (ای محمده! دوی ته) دا ټول (خیر او شر) له «جانبه د» الله دی پس څه سبب دی دې قوم لره چه نه دي نږدې (دې ته) چه پوه شي دوی په هیڅ خبره باندې

**تفسیر:** الله تعالیٰ فرمایي چه ای محمده! صلی الله علیه وسلم دوی ته هسې ځواب ورکړه چه ښه او بد (تنګي او پراخي، قحطي او ارزاني بلکه هر خیر او شر) ګرد (ټول) د الله تعالیٰ له لوري دي او د دغو ګردو (تولو) خیرو موجد او خالق الله تعالیٰ دی. په هسې خبرو کښې بل هیڅوک ګوتې نشي وهلی او نه څوک پکښې مداخله کولی شي او د رسول الله تدبیر هم د الله تعالیٰ له خوا او د هم دغه پاک الله الهام دی. ستاسې دا الزام په نبي باندې بیخي غلط او له یوې مخې ناپوهي ده. کوم تدبیر که ظاهري نتیجه ورنه کړي خراب ئې مه ګڼئ! دا د الله تعالیٰ حکمت دی چه تاسې ته ښوونه کوي، په سمه صافه لاره مو راولي او ستاسې ازموینه کوي دا ستاسې د قصور یو اجمالي ځواب ؤ، د منافقینو د الزام ځواب په وروستني آیت کښې په تفصیل سره راځي.

مَّا أَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ اللَّهِ ۖ وَمَا أَصَابَكَ مِن سَيِّئَةٍ فَمِن نَّفْسِكَ ۚ

هر هغه شي چه ورسید تاته (ای انسانه!) له نیکۍ څخه نو (هغه) له (جانبه

د) الله دی او هر هغه شی چه ورسید تاته (ای انسانه!) له بدی څخه نو (هغه) له (جانبه د) نفس ستا دی؛

تفسیر: یعنی اصلی خبره خو هم دا ده چه د ګردو (تولو) نیکیو او بدیو موجد اګر که الله جل جلاله دی، مګر بنده لره ښایی چه نیکی او ښیګڼه (نفع) د الله تعالیٰ انعام، فضل او احسان وګڼی او بدی، خرابی او سختی د خپلو اعمالو له شأمته وبولی او د هغه الزام په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی وانه چوی، څکه چه رسولان د هسی امورو موجد او سبب نه شی کیدی. بلکه موجد یعنی د دی خبری پیدا کوونکی الله تعالیٰ دی او سبب ئی ستاسی اعمال دی.

وَأَرْسَلْنَٰكَ لِلنَّاسِ رَسُولًا ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا ﴿٧٩﴾

او لیږلی ئی مونږ ته (ای محمده!) دپاره د (تولو) خلقو رسول او بس دی الله شاهد (په رسالت ستا ای محمده!).

تفسیر: حق تعالیٰ له رسول الله څخه د منافقینو الزام لری کړ او ارشاد ئی وفرمایه چه مونږ ته د ګردو (تولو) خلقو له پاره رسول (استاځی) درولی او لیږلی او مونږ ته ګرد (تول) شیان معلوم دی مونږ د ګردو (تولو) اعمالو جزا او سزا ورکوو تاسی د هیچا د چتی (بیکاره) خوشی خبرو او انکار او الزام پروا مه کوئ! او د خپل رسالت په کارونو کښی مشغول اوسئ!.

مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ ٱللَّهَ ۖ وَمَن تَوَلَّىٰ فَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا ﴿٨٠﴾

هر چا چه حکم ومانه د رسول (د الله) نو په تحقیق چه حکم ئی ومانه د الله، او هر څوک چه وګرځید (له اطاعته نو مه خپه کیږه ای محمده! څکه چه) پس نه ئی لیږلی مونږ ته په دوی باندی ساتونکی (څارونکی د اعمالو).

تفسیر: کله چه الله تعالیٰ ستاسی رسالت محقق فرمایلی دی نو ستاسی په نسبت دا حکم خلقو ته اوروی «هر هغه چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمان منی هغه بیشکه زما تابع دی او هغه چه له دغه څخنی مخ ګرځوی نو مونږ ته ای رسوله په دغو خلقو باندی ساتونکی نه ئی مقرر کړی او نه مونږ ته لیږلی ئی چه دوی مه پریږده چه ګناه وکړی. مونږ د دوی ګرد (تول) اعمال ګورو او له هغو سره موافق به هغوی ته جزا ورکوو. ستا کار یواځی د پیغام رسوونه ده. پاتی شو ثواب

او عقاب دغه زمونږ کار دی. (او دا د جهاد له فرضیت څخه مخکښې ؤ.)

وَيَقُولُونَ طَاعَةٌ فَإِذَا بَرَزُوا مِنْ عِندِكَ بَيَّتَ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ غَيْرَ الَّذِي تَقُولُ وَاللَّهُ يَكْتُبُ مَا يُبَيِّتُونَ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ وَكِيلًا ﴿٨١﴾

او وايي دوی (زمونږ کار ستا) طاعت دی نو کله چه راووځی دوی له تا څخه نو د شپې (په مشوره سره وايي) يوه ډله له دوی غير له هغې خبرې نه چه وايي ئې (دا طائفه تاته) او الله ليکي هغه خبرې چه د شپې ئې (په مشوره سره) وائی دوی، نو په څنګ شه ته! له دوی نه (او ترې تغافل وکړه ته!) او توکل (اعتماد) وکړه په الله باندی! او بس دی الله وکيل (کار جوړوونکی).

تفسير: د دغو منافقانو يوه بله مکاري واورئ! ستاسي په مخکښې وايي ستاسي حکم مو ومانه! او چه د باندی لاړ شي ستاسي په مخالفت مشوری سره کوی. يعني ستا په نافرمانی او مخالفت په خپلو منځونو کښې سره جرګې کوی او د الله تعالیٰ په دربار کښې د دوی دا ګردی (تولی) مشوری هم ليکلی کيږی، او دوی ته د دوی د ګردو (تولو) اعمالو او اقوالو سزا ورکوله کيږی نو ای نبی عليه السلام! ته له دوی څخني خپل مخ وګرځوه! او د دوی د هيڅ خبری پروا مه لره! او خپل تول کارونه الله جل جلاله ته وسپاره، پاک الله تاته کافی او بس دی. (طاعت د محذوفی مبتداء خبر دی چه هغه «امرنا» دی. ځيني مفسرين وايي «چه تقول» د غائب مؤنث صيغه او فاعل ئې «طائفة» دی. لکه چه په دغه پاس ترجمه او تفسير کښې ئې ګورئ! ځيني مفسرين ئې په مخاطب مذکر سره ترجمه کوی چه فاعل ئې محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم دی).

أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ اللَّهِ لَوَجَدُوا فِيهِ اخْتِلَافًا كَثِيرًا ﴿٨٢﴾

ايا نو فکر غور نه کوی دوی په دی (فصيح بليغ معجز) قرآن کښې او که وی (دا قرآن) له جانبه د غير د الله څخه نو خامخا موندلی به ؤ (دوی) په هغه کښې اختلاف دير (لکه چه د بشريه کلام کښې د معناګانو تناقض او د

الفاظو تفاوت موندل کیږی).

**تفسیر:** په پخوانیو آیتونو کښې د حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د رسالت او د ده اطاعت عیناً لکه د الله تعالیٰ اطاعت او د ده پر نافرمانانو باندی د حق تعالیٰ د عذاب نازلیدل په ښه ډول (طریقه) سره ښکاره شول مګر منافقان او زمونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم مخالفان دا ویلی شی چه د الله تعالیٰ شهادت او د ده د ارشاداتو په تسلیم او تصدیق کښې مونږ له سره څه تأمل نه کوو مګر دا په څرنګه راڅرګنده شی چه دا د الله تعالیٰ کلام دی او د انسان له خوا نه دی جوړ شوی؟ نو حق تعالیٰ د هغه ځواب داسی ورکوی چه دا خلق په قرآن کریم کښې غور نه کوی، چه دوی ته په صاف ډول (طریقه) سره دا ورڅرګنده شی، چه قرآن عظیم د الله تعالیٰ کلام دی وګورئ! که لوی قرآن د الله تعالیٰ کلام نه وی لکه چه تاسی ګمان کوئ نو ضرور به د (قرآن شریف) په ډیرو مواقعو کښې راز راز (قسم قسم) اختلافونه لیدل کیدل.
وګورئ! انسان له هر حالت سره سمی خبری کوی او له هغه حالت سره موافقی خبری کوی. هر نوی حالت چه پیښیږی د هغه بل حالت خیال انسان ته نه پاتی کیږی. که دا قرآن کریم د الله تعالیٰ کلام نه وی، نو د غصی په حالت کښې به ئی د مهربانی وړ (لائق) کسانو ته توجه نه کوله او د مهربانی په وخت کښې به ئی د غصی خبری هیرولی او د دنیا په بیان کښې به ئی د آخرت لحاظ نه ساته او د آخرت په بیان کښې به ئی د دنیا څه خبری نه کولی. په بی پروایی کښې به د عنایت څه ذکر نه وی او په عنایت کښې به د بی پروایی فکر نه وی. بالجمله د هر حال کلام به ئی وایه او د یوه حال کلام به ئی د بل حال له کلام ځنی مختلف په نظر راته، لیکن څرنګه چه (قرآن عظیم الشان) د خالق کلام دی نو په دی کښې د دغو ګردو (ټولو) حالاتو او جوانبو لحاظ شته او تر نظر لاندی نیولی شوی دی له غور او فکر څخه وروسته معلومیږی چه په (قرآن شریف) کښې د هر شی بیان د هر مقام په اقتضاء په همغه یو اسلوب سره دی. وګورئ! دلته د منافقینو د حال مذکور دی، چه د سخت عذاب مستحق دی، نو دلته هم د دوی په خبرو کښې همغومره الزام شته څومره چه ښائی او هر هغه الزام چه د دوی پر یوه خاص جماعت باندی ؤ هغه ئی پر هم دوی باندی اړولی دی. او فرمایلی ئی دی چه ځینی له دوی ځنی داسی کوی. داسی نه چه د غصی او نورو پریشانیو په وخت کښې کلام له خپل حد څخه ووځی او د بل حالت له کلام څخه مختلف په نظر راشی. او دا مطلب هم دی چه مونږ تل ګورو کله چه د کوم انسان خبری اوریدی شی نو د ده ګردی (ټولی) خبری یو شان نه وی بلکه ضرور سره متناقضی ښکاری یعنی کومه جمله ئی فصیحه او کومه جمله ئی غیر فصیحه، کومه ئی غلطه او کومه ئی سمه، کومه ئی موافقه او کومه ئی مناقضه او یوه ئی رښتیا او بله ئی دروغ ښکاری، او په پاک قرآن کښې سره له دومره لویی هیڅ یو اختلاف او ښکته او پورته نشته، او له هر راز (قسم) تباین او اختلاف څخه پاک دی او له ورا ښکاری چه هسی کلام د بشر له طاقته بهر دی.

**(فائده):** په دی کښې دی خبری ته هم اشاره وشوه هر ځوک چه له تدبر او فهم څخه کار وانه خلی نو ده ته په دی قرآن عظیم کښې د شبهاتو او اختلافاتو وهم، هم لویدی شي. مګر پوه او فهیم سړی له سره داسی نه کوی په دی مقام کښې که ځوک له فهم او تدبر څخه کار وانه خلی، نو ویلی شي چه اول ئی وفرمایل ﴿ قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِندِ اللَّهِ ﴾ بیایی وفرمایل ﴿ وَمَا أَصَابَكَ مِن سَيِّئَةٍ فَمِن نَّفْسِكَ ﴾ نو دلته خو تناقض او اختلاف راغی. (حال دا چه مونږ له هغه پاس تقریر سره هیڅ یو اختلاف نشته.) والله اعلم.

## وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِّنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ

او کله چه راشي دی (منافقانو) ته کوم امر (خبره) له امن «(نصرت» یا «کوم خبر له» ویری (هزیمت) نو مشهوروی دوی هغه (خبر)؛

**تفسیر:** یعنی په دی منافقانو او ناقصو مسلمانانو کښې داسی خرابی شته کله چه د امن کومه خبره وړاندی شي لکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم له چا سره د صلحی او روغی اراده وفرمایی، یا د اسلامی لښکرو د بری زیری واوراوه شي یا کومه ویروونکی خبره واوری لکه چه دښمنان چیری سره تول شوی وی، یا د مسلمانانو د ماتی خبره واوری نو داسی خبری بی له تحقیقه مشهوروی او خوروی یی. چه له هغو څخه علی‌الاکثر مسلمانانو ته نقصان او فساد پیښیږی، منافق د ضرر رسولو په قصد او ناپوه مسلمان د ناپوهی له امله (وجی) داسی کوی.

## وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَىٰ أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنبِطُونَهُ مِنْهُمْ

او که دوی وررسولی (او پریښی) وی دا خبر (طرف د) رسول «د الله» ته او «طرف د» حاکمانو خپلو ته له دوی نه نو خامخا معلوم به وی، (تدبیر) د دی کار هغو کسانو ته چه ایستلی (او بیلولی شي ښه له بدو) له دوی ځنی (رسول الله او امراء، نو تحقیق به ئی شوی وی)

**تفسیر:** یعنی که له کوم ځای څخه کوم خبر وررسیږی نو ښایی چه ړومبی ئی خپل مشر او د هغه نائبانو ته ووایی کله چه دوی د دی خبری تحقیق او تسلیم وکړی، نو بیا دی د دوی له وینا او فیصلی سره سم د هغه نقل دی بل چا ته وکړی او پر هغه باندی دی عمل وکړی.

**(فائده):** رسول الله مبارک یوه قوم ته یو سړی د زکوٰة تولولو دپاره ولیږه هغه قوم د ده د استقبال

له پاره د باندې وروتلې ؤ ده له لرې خیال وکړ ګواکې دوی زما د وژلو له پاره سره تول شوي دي نو بیرته (مدینې منورې) ته وګرځید او دا ئې مشهوره کړه چه فلانې قوم مرتد شوي دي کله چه دې خبرې په ګرد (تول) ښار کښې انتشار وموند په پاې (اخر) کښې غلطه ثابته شوه.

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطٰنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٨٣﴾

او که نه وی فضل د الله پر تاسی (په اسلام) او رحمت د ده (په نزول د قرآن) نو هرومرو (خامخا) به متابعت کړی ؤ تاسی د شیطان مګر (متابعت به نه ؤ کړی له تاسی څخه) لږو.

**تفسیر:** یعنی که الله جل جلاله پخپل فضل ستاسی د اصلاح او تربیت له پاره احکام نه وی لیږلی او تاسی ته ئی وخت په وخت سم له ضرورته هدایت او تنبیه نه وی فرمایلی لکه چه په دی موقع کښې ئې رسول الله صلی الله علیه وسلم او مشرانو ته د رجوع کولو هدایت وفرمایه نو تاسی به ګمراه شوی وی مګر څو خواص چه کامل العقل او کامل‌الایمان دی، همغسی به په ایمان قائم او ثابت پاتی وی. (د الله تعالیٰ دا تنبیهات) انعام وګڼئ! او په شکر ایستلو سره د هغه پوره تعمیل وکړئ!.

فَقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ لَا تُكَلَّفُ اِلَّا نَفْسَكَ وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ
عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّكُفَّ بَاْسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ

نو جنګ کوه ته په لاره د الله کښې (له پاره د ترقی د دین یواځې ای محمده! که بل چا درسره ملګرتیا نه کوله) نه ئی مکلف کړی شوی ته مګر په حق د ځان خپل او تیزوه مؤمنان (په جهاد او ورترغیبوه یی!)، نژدی ده چه الله بنده کړی (سختی د) جنګ د هغو کسانو چه کافران شوی دی

**تفسیر:** یعنی که د کافرانو له جنګ څخه دا منافقان او ناقص مسلمانان (چه د هغوی ذکر پاس تیر شو) ویریږی نو ای رسوله! ته یوازی بالذات په خپل سر په «جهاد» کولو کښې توقف مه کوه! الله جل جلاله ستا مددګار دی او مسلمانانو ته د «جهاد» تاکید وکړه! هغه کسان چه له تاسی سره ملګرتیا نه کوی د دوی هیڅ پروا مه کوه!. هیله (امید) شته چه الله تعالیٰ د دی کافرانو د جنګ مخه ونیسی.

**(فائده):** کله چه دا آیت نازل شو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه «زه هرومرو

(خامخا) «جهاد» ته ځم. اګر که یو سړی هم له ما سره ملګرتیا ونه کړی.» او له ده سره یوازی (۷۰) تنو اصحابانو «بدر الصغریٰ» ته د «جهاد» په قصد تشریف یوړ چه د هغه وعده له (ابوسفیان) سره د «احد» په غزوه کښی شوی وه او د هغه ذکر په (٤) جزء د آل عمران په (۱۷۳) آیت (۱۸) رکوع کښی وشو. الله تعالیٰ د «ابوسفیان» او د قریشو د کفارو په زړونو کښی رعب او خوف او ویره واچوله چه هیڅوک د مقابلی دپاره وره نغلل او پخپلو وعدو کښی دروغجن شول او د الله جل جلاله له ارشاد سره سم د کافرانو دا جنګ بند شو. او دوی له خپلو ملګرو سره روغ رمټ بیرته تشریف راوړ.

وَاللّٰهُ اَشَدُّ بَأْسًا وَّاَشَدُّ تَنْكِيْلًا ﴿٨٤﴾

او الله ډیر سخت دی له جهته د هیبت، جنګ او ډیر سخت دی له جهته د عذاب ورکولو (له دغو کفارو نه).

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ عذاب او له کافرانو سره د هغه جنګ ډیر سخت دی. نو هغه کسان چه د کافرانو له جنګ او د هغوی له لاسه له وژل کیدلو څخه ویریږی، نو دوی به د الله جل جلاله د قهر او د ده د عذاب تحمل په څه ډول (طریقه) سره وکړی شي؟.

مَنْ يَّشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَّكُنْ لَّهٗ نَصِيْبٌ مِّنْهَا ۚ وَمَنْ يَّشْفَعْ شَفَاعَةً سَيِّئَةً يَّكُنْ لَّهٗ كِفْلٌ مِّنْهَا ۭ

او هر څوک چه سپارښت وکړی سپارښت نیک (له شرعی سره سم) نو وی به دی (سپارښت کوونکی) لره یوه برخه (د ثواب) په سبب د هغه سره، او هر څوک چه سپارښت وکړی سپارښت ناکاره (له شرعی څخه خلاف) نو وی به دی (سپارښت کوونکی) لره یو بار «برخه د ګناه» په سبب د هغه سره

**تفسیر:** یعنی که څوک په نیکو کارونو کښی سعی او سپارښت وکړی لکه چه نبی صلی الله علیه وسلم مسلمانانو ته د جهاد ترغیب ورکوی یا څوک په خرابو چارو کښی کوښښ وکړی، لکه چه منافقان او سست مسلمانان چه هم پخپله له جهاده ویریږی او هم د نورو د ویرولو اسباب برابروی، نو په ړومبی صورت کښی به د ثواب او په وروستنی صورت کښی به د ګناه برخه دوی ته وررسیږی. هم داسی که څوک د کوم محتاج سپارښت وکړی او له کوم دولتمن څخنی څه ورته واخلی. نو دی به هم د هغه خیرات په ثواب کښی داخلیږی که څوک د کوم کافر یا مفسد یا

سارق او نورو سپارښت وکړی او هغه د حاکم یا د نورو له لاسه خلاص کړی او هغه بیا فساد او غلا وکړی نو دی هم په هغه فساد او غلا کښې ورسره شریک دی.

وَكَانَ اللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ مُّقِيتًا ﴿٨٥﴾

او دی الله پر هر شی باندی قدرت لرونکی (نو وربه کړی جزا هر چا لره په عمل د ده سره).

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ پر تولو شیانو باندی قادر او د هر شی د برخی تقسیم کوونکی دی نو د نیکی او بدی په حصه ورکولو کښې ده ته هیڅ کوم تکلیف نه پیښیږی.

وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ حَسِيبًا ﴿٨٦﴾

او هر کله چه دعا وکړه شی تاسی ته په یوه دعا سره نو تاسی هم دعا وکړئ (هغه ته) په دعا ښه سره له هغی نه یا وروګرځوئ همغه (وینا) بیشکه چه الله دی پر هر شی باندی ښه حساب کوونکی (نو درسره حساب کوی او جزا درکوی).

**تفسیر:** یعنی کوم مسلمان ته سلام ورآچول او دعا کول په حقیقت کښې له الله تعالیٰ څخه د هغه شفاعت غوښتل دی. نو حق تعالیٰ د شفاعت حسنه یو خاص صورت چه په مسلمانانو کښې شائع او خور دی په صراحت سره بیان فرمایی چه «ای مسلمانانو! کله چه کوم مسلمان تاسی ته دعا وکړی یا سلام واچوی نو تاسی هم هرومرو (خامخا) د هغه ځواب ووایئ! یا همغه کلمه تاسی هم هغه ته وایئ! یا له هغه څخه ښه او بهتره دعا وکړئ! مثلاً که څوک «السلام علیکم» ووایی، نو پر تاسی باندی واجب دی چه د هغه په ځواب کښې «وعلیکم السلام» ووایئ! او که زیات ثواب غواړئ، نو «ورحمة الله» هم پری زیات کړئ او که هغه دا لفظ زیات کړی نو تاسی پری «وبرکاته» زیات کړئ! او د الله تعالیٰ په دربار کښې به د هر هر شی حساب وی. او د همغه اجر به ئی دررسیږی سلام او د هغه ځواب هم په هم دی کښې راغلل.
**(فائده):** په دی کښې د شفاعت حسنه پوره ترغیب وشو او د شفاعت سیئه خرابی او مضرت هم معلوم شو، ځکه خدای جل جلاله هغه چاته چه نیک شفاعت ئی کړی وی ثواب ورکوی او هغه چاته چه په حق کښې ئی شفاعت شوی وی امر کوی چه له شفاعت کوونکی سره نیکه معامله

وساتي. په خلاف د سيئه شفاعت چه له هغه څخه د محروميت او معصيت نه پرته (علاوه) بل هيڅ شي نه په برخه کيږي (سلام اچول سنت او رد ئې په نزد د امام اعظم رحمة الله عليه غير له (٦) ځايونو فرض کفايي دي او هغه دا دي

١ـ په خطيب.

٢ـ په قاري د قرآن.

٣ـ په راوي د حديث.

٤ـ په آذان کوونکي.

٥ـ په اقامت ويونکي.

٦ـ په منځ د تدريس کښې د شرعي ؤ علومو په مدرس، نور علماء په څو نورو مواردو کښې هم د سلام ځواب لازم نه بولي.)

---

اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۭ لَيَجْمَعَنَّكُمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيْهِ ۭ وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ حَدِيْثًا ﴿٨٧﴾

---

الله نشته هيڅ لائق د عبادت مګر يوازې هم دې دی خامخا راجمع به کړي هرومرو (خامخا) تاسي ورځې د قيامت ته چه نشته هيڅ شک په هغې (ورځې يا په دې جمع) کښې او څوک دی ډير رښتينې له الله نه له جهته د خبرې؟ (هيڅ څوک نشته!).

---

**تفسير:** يعني د قيامت راتګ او د ثواب او عقاب د ګردو (ټولو) مواعيدو پوره کيدل ټول حق او رښتيا دي. او په دې که به له سره تخلف نه وي، نه ښايي چه دا خبرې دې معمولي او سرسري وګڼلي شي.

---

فَمَا لَكُمْ فِى الْمُنٰفِقِيْنَ فِئَتَيْنِ وَاللّٰهُ اَرْكَسَهُمْ بِمَا كَسَبُوْا ۭ اَتُرِيْدُوْنَ اَنْ تَهْدُوْا مَنْ اَضَلَّ اللّٰهُ ۭ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ سَبِيْلًا ﴿٨٨﴾

---

نو څه شوي دي تاسي ته په (معامله) د منافقانو کښې چه دوه ډلې (شوي

یئ) او الله بیرته گرځولی دی دوی (رد کړی ئی دی کفر ته ) په سبب د
هغو بدو اعمالو چه کړی دی دوی (لکه نفاق او له مشرکانو سره ملحق
کیدل) آیا اراده لرئ تاسی (ای مؤمنانو!) د دی چه په سمه صافه لاره برابر
کړئ تاسی هغه څوک چه گمراه کړی دی الله او هر څوک چه گمراه (یی)
کړی الله پس نه به مومی ته ده ته هیڅ لاره (د هدایت).

**تفسیر:** په دی منافقانو کښی هغه خلق هم داخل دی چه په ښکاره ډول (طریقه) سره ئی ایمان نه ؤ راوړئ، بلکه ظاهراً او باطناً پر کفر باندی تینگ ولاړ وو. لیکن د (حضرت محمد صلی الله علیه وسلم) او د مسلمانانو سره به ئی په ښکاره ډول (طریقه) سره ناسته ولاړه او د مینی او محبت معامله درلوده (لرله) او د دوی غرض دا ؤ چه که د مسلمانانو لښکر زمونږ پر قوم باندی یرغل (حمله) راوړی نو زمونږ مال او ځان به په دی چم (بهانه) او حیله سره محفوظ پاتی شی. هر کله چه مسلمانانو ته معلوم شو چه د دوی تگ او راتگ په دی مقصد دی او مونږ سره د زړه مینه او محبت نه لری نو ځینو مسلمانانو وویل چه «ښایی له داسی شریرانو سره ناسته ولاړه پریښودل شی تر څو دوی له مونږ څخنی جلا (جدا) شی». او ځینو وویل چه «ښایی له دوی سره ناسته ولاړه ولرو، گوندی ایمان راوړی.» نو دا آیت نازل شو چه «هدایت او ضلالت د الله تعالیٰ په اختیار کښی دی تاسی د هغه په فکر او چرت (خیال) کښی له سره مه اوسئ! ښایی له دی خلقو سره بالاتفاق همغسی معامله وکړه شی چه وروسته له دی راځی او په خپلو منځونو کښی دوه دلی مه کیږئ!.»

وَدُّوْا لَوْ تَكْفُرُوْنَ كَمَا كَفَرُوْا فَتَكُوْنُوْنَ سَوَآءً فَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ
اَوْلِيَآءَ حَتّٰى يُهَاجِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۭ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَخُذُوْهُمْ وَاقْتُلُوْهُمْ
حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ ۠ وَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿٨٩﴾

دوست گڼی دوی (او غواړی دا مرتدان دغه) که تاسی «هم» کافران شئ لکه
چه کافران شوی دی دوی) نو شئ به تاسی او دوی (گرد (تول) سره) برابر
(په کفر کښی) نو مه نیسئ تاسی (هیڅوک) له دوی نه دوستان تر څو چه
(د زړه ایمان راوړی او) هجرت (هم) وکړی په لاره د الله کښی نو که
وگرځیدل دوی (له لاری د الله) نو ونیسئ تاسی دوی (او بندیان ئی کړئ)
او وئی وژنئ تاسی دوی هر چیری چه ومومئ تاسی دوی او مه نیسئ تاسی
(هیڅوک) له دوی څخه دوست او نه مددگار (په خپلو نورو دښمنانو).

**تفسیر:** یعني دا منافقان په کفر باندې داسې ټینګ ولاړ دي چه پخپله خو ایمان نه راوړي بلکه دا غواړي چه تاسي هم د هغوی په شان کافران او واړه سره برابر او یو شان شئ! نو اوس تاسي ته ښایي تر څو چه دوی ایمان رانه وړي، او خپل ګرد (ټول) نفساني اغراض پرې نه ږدي، (او د حق او حقانیت په جانب په صدق او اخلاص سره رهي (روان) نشي) تر هغه پورې تاسي له دوی سره دوستي مه کوئ! که دا خلق د زړه ایمان رانه وړي او د الله جل جلاله په لاره کښې هجرت ونه کړي، نو دوی بندیان کړئ! او هر چیرې چه وموموئ! ویې! وژنئ او له دوی څخه په کلي ډول (طریقه) سره اجتناب وکړئ! او څانونه ترې وژغورئ (بچ کړی)! او هیڅ راز (قسم) تعلق او ارتباط له دوی سره مه لرئ!.

إِلَّا الَّذِينَ يَصِلُونَ إِلَىٰ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ أَوْ جَاءُوكُمْ حَصِرَتْ صُدُورُهُمْ أَن يُقَاتِلُوكُمْ أَوْ يُقَاتِلُوا قَوْمَهُمْ ۚ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَسَلَّطَهُمْ عَلَيْكُمْ فَلَقَاتَلُوكُمْ ۚ فَإِنِ اعْتَزَلُوكُمْ فَلَمْ يُقَاتِلُوكُمْ وَأَلْقَوْا إِلَيْكُمُ السَّلَمَ فَمَا جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيلًا ﴿٩٠﴾

مګر (مه وژنئ او مه بندي کوئ) هغه کسان چه وتړي دوی څانونه خپل (او امان وروړي) هغه قوم ته چه په منځ ستاسي او په منځ د دوی کښې عهد، پیمان وي یا راشي دوی تاسي ته حال دا چه تنګي شوي وي سینې (زړونه) د دوی (او بد ګڼي له دې نه) چه جنګ وکړي له تاسي سره (د خپل قوم په مرسته (مدد) یا جنګ وکړي دوی له قوم خپل سره (ستاسي په مرسته (مدد) او که اراده کړې وی الله نو خامخا زور ورکړی به ئې وي دوی په تاسي نو هرومرو (خامخا) به جنګیدل له تاسي سره نو که څنګ وکړ دوی له تاسي پس ونه کړ جنګ دوی له تاسي سره او دروړاندې کړه دوی تاسي ته روغه (او امان وغواړي تاسي نه) نو نه دی ګرځولی الله تاسي ته پر دوی هیڅ لاره (د نیولو او وژلو او مال اخیستلو)

**تفسیر:** یعني د دې ظاهري او باطني میني او محبت له امله (وجې) د دوی له قید او قتل څخه څانونه مه ژغورئ(ساتئ)! مګر په دوه حالتونو کښې
(۱): له هغو خلقو سره چه تاسي روغه کړې وي له هغوی سره دوی هم معاهده او مصالحه ولري.

نو دوی هم په صلح کښې داخلیږی.
(۲): هغه کسان چه له جنګ ځنې عاجزان شی او له تاسی سره صلح وکړی او د دی خبری عهد او پیمان وکړی چه نه به د خپل قوم په طرفداری له تاسی سره جنګ وکړی او نه به له تاسی سره ملګری شی چه له خپله قومه سره وجنګیږی. او پر دی عهد باندی تینګ هم پاتی شی نو له هسی خلقو سره هم مه جنګیږی. او د دوی مصالحه منظور کړئ! او دا د الله تعالیٰ له احسانه وګڼئ چه دوی ستاسی له جنګ څخه مخ واړوی. که الله تعالیٰ اراده فرمایلی وی نودوی به ئی پر تاسی باندی زړور، زوړور او غالب ګرځولی وی. (داآیت د «سیف» په آیت سره منسوخ شوی دی.)

سَتَجِدُوْنَ اٰخَرِيْنَ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّاْمَنُوْكُمْ وَ يَاْمَنُوْا قَوْمَهُمْ كُلَّمَا رُدُّوْٓا اِلَى الْفِتْنَةِ اُرْكِسُوْا فِيْهَا ۚ فَاِنْ لَّمْ يَعْتَزِلُوْكُمْ وَيُلْقُوْٓا اِلَيْكُمُ السَّلَمَ وَيَكُفُّوْٓا اَيْدِيَهُمْ فَخُذُوْهُمْ وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوْهُمْ ۭ وَاُولٰۗىِٕكُمْ جَعَلْنَا لَكُمْ عَلَيْهِمْ سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا ﴿٩١﴾

ژر به ومومئ تاسی یو بل (قوم) چه اراده به لری دوی د دی چه په امان شی له تاسی (هم) او په امان شی له قومه خپله (هم)؛ هر کله چه وبلل شی دوی فتنی (فساد، کفر) ته نو بیرته ګرځاوه شی په فساد کښې، بیا که نشول په څنګ دوی له تاسی نه او دروړاندی ئی نه کړه تاسی ته روغه (او د امان طلب) او بند ئی نه کړل لاسونه خپل (له جنګه) نو ونیسئ تاسی دوی (او بندی کوئ یی) او ووژنئ تاسی دوی په هر ځای کښې چه ومومئ تاسی دوی؛ او دا تولی ګرځولی دی مونږه تاسی لره پر دوی باندی برهان (دلیل) ښکاره (د دوی په قتل او بند چه هغه د دوی تګی ده).

**تفسیر:** یعنی ځینی خلق داسی هم دی چه له تاسی سره عهد کوی، چه نه به له تاسی سره جنګیږی او نه به له خپله قومه سره تر څو ستاسی او د خپل قوم له لوری یعنی د دواړو خواؤ څخه مأمون او داده شی. لیکن دوی په دی عهد باندی تینګ نه پاتی کیږی بلکه هر کله چه د خپل قوم بری او غلبه وګوری له هغوی سره مرسته (مدد) کوی نو د هسی خلقو له تجاوز ځنی تاسی هم مه تیریږئ! ځکه چه ستاسی لاس ته خو صریح حجت راغلی او دوی خپل عهد پخپله مات کړی دی.

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ اَنْ يَّقْتُلَ مُؤْمِنًا اِلَّا خَطَـًٔا ۚ

او نه ښايي (يا نه دی روا) هيڅ مؤمن ته (يا نه دی د مؤمن كار) دا چه مړ كړي «بل» مؤمن مگر په خطا سره ،

**تفسير:** په دی موقع كښی د خطا د قتل احكام بيان فرمايي او دا راښرگندوی چه د اسلامی كلمی د ويونكی وژل لويه گناه ده. هو! كه چيری په خطا سره وواژه شو نو دا د مجبوری خبره ده او د هغه احكام بيانيږی او په دی ضمن كښی د مجاهدينو فضيلت او (دارالكفر) څخه د (دارالاسلام) په لوری د هجرت كولو ضرورت او د سفر او د خوف د لمونځونو كيفيت هم بيانيږی.

**(فائده):** د خطا قتل يعنی د مسلمان وژل په خطا سره څو صورتونه لری لكه چه پر كوم مسلمان باندی د ښكار په گمان په غلطه گزار وكړی او ويی وژنی، يا گولی يا غشی يا نور له ښكار څخه خطاء وتلی، يا ختلی، پر كوم مسلمان باندی ولگيږی. د خطا قتل يو صورت دا هم كيدی شی چه يو مسلمان (له «دارالاسلام» څخه د خپلو چارو دپاره (دارالحرب) ته لاړ شی او د كافرانو په منځ كښی وی او پر هغه باندی كوم بل مسلمان د كافر گمان وكړی او په بی خبری سره ئی ووژنی او دلته د هم دی صورت بيانول مقصود دی ځكه چه مجاهدينو ته علی الاكثر داسی پيښی وړپيښی دی. او له تير شوو آيتونو سره ئی هم دا مناسبت دی او د خطا قتل د نورو صورتونو حكم هم داسی دی او په هم دی كښی گرد (تول) سره داخل دی.

وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَـًٔا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَّدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ اِلٰٓى اَهْلِهٖٓ
اِلَّآ اَنْ يَّصَّدَّقُوْا ۭ فَاِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ عَدُوٍّ لَّكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيْرُ
رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ۭ وَاِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍۢ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ فَدِيَةٌ
مُّسَلَّمَةٌ اِلٰٓى اَهْلِهٖ وَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ۚ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ
شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ ۡ تَوْبَةً مِّنَ اللّٰهِ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿٩٢﴾

او هر څوک چه مړ کړی کوم مؤمن په خطا سره نو (شته پر قاتل) آزادول د غاړی (د مریی) مؤمن او (بل) دیت دی سپارلی شوی اهل (وارثانو) د مقتول ته مګر دا که معاف کړی دا (وارثان دغه قاتل) پس که ؤ (دا مقتول) له (هسی) قومه چه دښمن وی تاسی لره حال دا چه دا (مقتول) مؤمن وی نو (شته پر قاتل تش) آزادول د غاړی (د مریی) مؤمن «بی له دیته» او که ؤ دا مقتول له (هسی) قومه چه په منځ ستاسی او په منځ د هغه قوم کښی عهد وی نو (شته پر قاتل یو) دیت ورسپارلی شوی اهل (وارثانو) د مقتول ته او «بل» آزادول د غاړی (د مریی) مؤمن دی. پس هر څوک چه ونه مومی (مریی یا مال چه پری مریی واخلی) نو (پری) روژه نیول د دوو میاشتو دی پرله پسی (بلا انقطاع دپاره د قبلولو د) توبی له (جانبه د) الله؛ او دی الله ښه عالم (په تولو احوالو) لوی حکمت والا (چه هر کار په حکمت او مصلحت سره کوی).

---

**تفسیر:** په دی آیت کښی د خطا قتل دوه صورتونه ښوول شوی دی

لومړی د مسلمان مریی آزادول او که له قدرت ئی پوره نه وی. نو دوی میاشتی متصلی روژه نیول دی دا د الله تعالیٰ په دربار کښی کفاره او د قاتل د خطا تلافی ده.

دوهم د هغه مقتول وارثانو ته د وینو بدل او دیت ورکول دی چه دا د هغوی حق دی او دغه دیت د دوی په معافولو سره معافیدی هم شی. مګر کفاره د چا په معافولو سره نه معافیږی. او قتل دری صورتونه لری. ځکه هغه مسلمان چه په خطا سره وژل شوی دی د ده ورثه به یا مسلمان وی یا به کافر. که کافر وی، نو له ده سره به ئی یا مصالحه وی یا دښمنی. په ړومبنیو دواړو صورتونو کښی د مقتول وارثانو ته د وینی بدل ورکول لازمیږی. په دریم صورت کښی د وینی بدل نه لازمیږی، او کفاره به په دری واړو صورتونو کښی لازم الاداء وی.

**(فائده):** دیت یا د وینی بدل زمونږ د حنفیانو په مذهب کښی لس زره شرعی روپی کیږی. ښایی چه دا روپی دی قاتل او د قاتل خپلوان د دری کلونو په اقساطو سره د هغه مقتول ورثی ته ورورسوی (او ښایی چه دیت له دری شیانو ځنی ورکړ شی چه

(۱): ئی په اندازه د یو زر دیناره سره زر دی. او

(۲): په اندازه د لسو زرو درهمو سپین زر دی. او

(۳): ئی سل اوښان دی چه شل ابن مخاض او شل ئی بنت مخاض (یو کلن) او شل ئی بنت لبون (دوه کلن) او شل ئی حقی (دری کلنی) او شل ئی جزعی (څلور کلنی) وی.)

---

وَمَنْ يَّقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ خٰلِدًا فِيْهَا

وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهٗ وَاَعَدَّ لَهٗ عَذَابًا عَظِيْمًا ۝

او هر څوک چه مړ کړی کوم مؤمن په قصد سره (او د مسلمان دغه قتل روا هم وګنی) نو جزا د ده دوزخ دی (په داسی حال کښې) چه تل به وی دی (دغه حلال ګڼونکی د قتل) په هغه «دوزخ» کښې او غضب (قهر) کړی دی الله په ده باندی او لری کړی دی (الله) دا (قاتل) له خپل رحمت څخه) او تیار کړی دی ده ته عذاب ډیر لوی.

**تفسیر:** یعنی که یو مسلمان بل مسلمان په غلطی سره نه، بلکه په قصد سره او سره له دی چه ښه ئی پیژنی چه مسلمان دی خو وژنی ئی نو د ده دپاره په آخرت کښې جهنم او لعنت او لوی عذاب دی او په کفاره. سره تری نه خلاصیږی او دنیوی سزا ئی همغه ده چه په (۲) جزء د البقرة په (۱۷۸) آیت ۲۲ رکوع کښې تیره شوه.

**(فائده):** د ګردو (ټولو) عالمانو په نزد (خلود فی النار) هغه چا لره دی چه د مسلمان وژل حلال ګڼی ځکه چه د هغه په کفر کښې شک نشته. یا به له «خلود» (تل ترتله) ځنی تر اوږدی مودی پوری په جهنم کښې هستوګنه وی. یا خو به داسی قاتل مستحق د هم داسی لویی سزا وی وروسته الله تعالیٰ پخپله مالک او مختار دی. او «خلود فی النار» او «خروج عن النار» دواړه د ده کار دی هر څه چه اراده ئی وی، همغسی کوی. والله اعلم.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا ضَرَبْتُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَتَبَيَّنُوْا وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ اَلْقٰٓى اِلَيْكُمُ السَّلٰمَ لَسْتَ مُؤْمِنًا ۚ تَبْتَغُوْنَ عَرَضَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۡ فَعِنْدَ اللّٰهِ مَغَانِمُ كَثِيْرَةٌ ؕ

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (ای مؤمنانو) کله چه سفر کوئ تاسی په لاره د الله کښې (جهاد ته) نو ښه تحقیق وکړئ او مه وایئ تاسی هغه چاته چه در واچوی تاسی ته سلام چه نه ئی ته مؤمن (او د اسلام کلمه دی له ویری ویلی دی) غواړئ تاسی مال (اسباب) د دی حیات دنیوی (ژوندون لږ خسیس او که واقعی غنیمت غواړئ) پس دی الله څخه غنیمتونه ډیر

**تفسیر:** حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم یو لښکر د غزا (جهاد) په غرض پر یوه قوم باندی ورواستاوه، په دی قوم کښی یو سړی (مرداس نامه) مسلمان ؤ چه له خپل مال اسباب او مواشی سره له کفارو څخه جلا (جدا) شوی او ګوښی (بیل) ولاړ ؤ. کله چه دی له مسلمانانو سره مخامخ شو نو «السلام علیکم» ئی وویل مګر اسامه بن زید رضی الله تعالیٰ عنه داسی ګومان وکړ چه دا هم کافر دی او د خپل مال او ځان د خلاصولو دپاره ځان مسلمان راښکاره کړی نو هغه ئی وواژه او هغه مال او اسباب او مواشی ئی ګرد (تول) تری نه واخیستل (ځینی وایی کله چه مقداد رضی الله تعالیٰ عنه هغه سړی وواژه چه کلمه ئی ویله او د قتل سبب ئی دا وباله چه ده غوښتل چه په دی حیلی سره مال، عیال او ځان خلاص کړی) نو دا آیت نازل شو او مسلمانانو ته تنبیه او تاکید وفرمایه شو کله چه تاسی د «جهاد» دپاره سفر کوئ! له تحقیق څخه کار اخلئ!، او بی له فکره او پوهی څخه په کوم کار کښی څرګند (ضد) مه کوئ! او هغه څوک چه تاسی ته خپل ځان مسلمان درښکاره کړی، نو د ده د اسلام په منلو کښی له سره انکار مه کوئ! او له الله جل جلاله سره ډیر زیات غنائم شته، نو هسی حقیر سامان ته له سره مه ګورئ. (وایی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د دی واقعی له اوریدلو سخت خپه شو او په هغه صحابی باندی په قهر شو او د دغه بی موجبه قتل د سبب له اوریدلو څخه وروسته ئی وفرمایل «**هلاشققت قلبه** ـ آیا د ده زړه دی څیری کړی ؤ؟» چه ته وپوهیدی، چه دی رښتیا وایی که دروغ؟)

---

كَذٰلِكَ كُنْتُمْ مِّنْ قَبْلُ فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُوْا ؕ

---

هم داسی وئ تاسی (هم چه یواځی د اسلام په اظهار سره مامون شوی وئ) پخوا له دی نو فضل وکړ الله په تاسی نو ښه تحقیق کوئ! (او هیڅوک ته تش په شبهه ضرر مه رسوئ!)

---

**تفسیر:** تاسی پخوا له دی هم داسی وئ! یعنی پخوا له اسلامه د دنیوی اغراضو له امله (وجی) تاسی هم داسی په ناحقه وینی تویولی، لیکن اوس سره له اسلامه داسی له سره مه کوئ!، بلکه د هغه چا په وژلو کښی هم احتیاط کوئ چه د هغه د مسلمان کیدلو احتمال وی. یا ئی دا مطلب چه له دی نه پخوا د اسلام په شروع کښی تاسی هم د کافرانو په ښارونو کښی اوسیدئ او تاسی د کوم مستقل حکومت او د کوم مستقل ځای خاوندان نه وئ نو لکه چه په هغه حالت کښی هم ستاسی ظاهری اسلام اعتبار درلود (لرلو) او ستاسی د ځان او د مال حفاظت او رعایت شوی ؤ، نو هم داسی په تاسی باندی هم لازم دی، چه د نورو ظاهری مسلمانانو د مال او د ځان رعایت او حفاظت وکړئ! او بی له تحقیقه څوک ونه وژنئ! او ښایی چه له احتیاط، دقت او غور څخه کار واخلئ!

إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿٩٤﴾

بيشکه الله دی په هغه څه چه تاسي (يې) کوئ ښه خبردار (نو پرې جزا درکوي).

**تفسير:** يعني الله تعالىٰ ستاسي په ظاهري اعمالو او د زړونو په پټو خبرو باندې خبر او مطلع دی، نو وروسته له دې که څوک وژنئ محض (د الله تعالىٰ) په حکم سره ئې وژنئ! او اصلاً په هغه کښې خپل هيڅ يو غرض ته مداخله مه ورکوئ! او دا هم مقصد دی که کوم کافر د خپل مال او د ځان له ويرې ستاسي په مخ کښې د اسلام اظهار وکړي او تاسي تير باسي او په چم (بهانه) او فريب سره خپل ځان وژغوري (بچ کړي)، نو الله تعالىٰ ته تول شيان معلوم دي او د هغه له عذاب څخه هيڅوک خپل ځان نشي ژغورلی. (ساتلی) مګر تاسي هغه ته هيڅ مه وايئ! دا ستاسي کار نه دی، مونږ به له هغو سره ګورو.

لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ وَالْمُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ ۚ فَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَاهِدِينَ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقَاعِدِينَ دَرَجَةً ۚ وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَىٰ ۚ وَفَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَاهِدِينَ عَلَى الْقَاعِدِينَ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٩٥﴾ دَرَجَاتٍ مِنْهُ وَمَغْفِرَةً وَرَحْمَةً ۚ

نه دي برابر (الله ته) کيناستونکي (په کور کښې) له مؤمنانو نه (له جهاده) بې له خاوندانو د عذره او جهاد کوونکي په لاره د الله کښې (د دين د ترقۍ لپاره) په مالونو خپلو سره او په ځانونو خپلو سره فضيلت ورکړی دی الله جهاد کوونکو ته په (لګولو د) مالونو خپلو سره او (په جارولو د) ځانونو خپلو سره پر کيناستونکو باندې (له معذرته) په درجه کښې؛ او له ټولو سره (که مجاهد وي که معذور ناست) وعده کړې ده الله د ښې جزا (جنت)؛ او فضيلت ورکړی دی الله جهاد کوونکو ته پر کيناستونکو (له معذرته) په اجر

عظیم ډیر لوی سره چه مرتبې دی (لویې چه په عزت او کرامت کښې سره متفاوتې دی) له (جانبه د) الله او مغفرت دی او رحمت دی؛

**تفسیر:** له دی نه پخوا ئې مسلمانانو ته د خطا او ناپوهی د قتل په نسبت عتاب او تنبیه فرمایلې وه نو هسې احتمال کیدی شو چه شوک به له زړه «جهاد» ونشی کولی ځکه چه مجاهدینو ته داسی پیښی ډیری وریپښیږی نو ځکه ئې د مجاهدینو د فضیلت بیان وفرمایه او دوی ته ئې د «جهاد» رغبت ورکړ. د دی آیت خلاصه دا ده چه په ګوډو، شلو، ړندو، ناروغو او معذرو خلقو باندی د «جهاد» حکم نشته، باقی په نورو ګردو (ټولو) مسلمانانو کښی د مجاهدینو درجی داسی لویې دی چه د «جهاد» تارکین له سره هغسی درجی نه لری. اګر که هغوی هم جنتیان دی. له دی ځنی دا ښکاره شوه، چه «جهاد» فرض کفایی دی، او فرض العین نه دی. یعنی که د مسلمانانو یو تعداد د جهاد له پاره کفایت وکړی او په هغوی باندی ضرورت رفع شی نو پر «جهاد» نه کوونکو باندی هیڅ یوه ګناه نه اوړی. که نه دوی ټول سره ګنهګاریږی.

وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿٩٦﴾

او دی الله ښه ښونکی (د خطیاتو) ډیر رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره).

**تفسیر:** یعنی حق تعالیٰ غفور او رحیم دی د «جهاد» کوونکو په باره کښی د اجر مغفرت او رحمت هغه وعدی چه شوی دی، هغه هرومرو (خامخا) پوره کوی. یا دا که د مجاهدینو له خوا کوم مسلمان سړی په ناپوهی سره وواژه شو، نو دوی به حق تعالیٰ معافوی، نو د دی اندیښنی له امله (وجی) تاسی له جهاد څخه مه ستنیږئ (واپس کیږی) !

اِنَّ الَّذِيْنَ تَوَفّٰهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ظَالِمِيْٓ
اَنْفُسِهِمْ قَالُوْا فِيْمَ كُنْتُمْ ۭ قَالُوْا كُنَّا مُسْتَضْعَفِيْنَ
فِي الْاَرْضِ ۭ قَالُوْٓا اَلَمْ تَكُنْ اَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوْا
فِيْهَا ۭ فَاُولٰۗئِكَ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۭ وَسَاۗءَتْ مَصِيْرًا ﴿٩٧﴾
اِلَّا الْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاۗءِ وَالْوِلْدَانِ

لَا يَسْتَطِيعُونَ حِيلَةً وَّلَا يَهْتَدُونَ سَبِيلًا ﴿٩٨﴾ فَأُولَٰٓئِكَ عَسَى اللَّهُ أَن يَعْفُوَ عَنْهُمْ ۚ وَكَانَ اللَّهُ عَفُوًّا غَفُورًا ﴿٩٩﴾

بیشکه هغه کسان چه وفات کړی وی دوی لره ملائکو (د مرګ) په داسی حال کښی چه وی دوی ظلم کوونکی په ځانونو خپلو وایی ورته (ملائکی) په کوم حال کښی وئ تاسی (په خپلو دینی چارو کښی؟) وائی دوی چه وو مونږ ضعیفان کړی شوی په ځمکه کښی (د کفارو په لاس بیا ملائکی ورته) وایی چه آیا نه وه ځمکه د الله ارته پس هجرت کړی وی تاسی په دی (ځمکه کښی)؛ نو دا (تارکان د هجرت) ځای د دوی دوزخ دی. او ناکاره ځای د ورتلو دی (دا دوزخ). مګر (نه به عذابیږی) هغه چه په رښتیا سره ضعیفان دی له نارینه ؤ او له ښځو او له هلکانو چه نه توانیږی (او نه لری هیڅ) حیله (تدبیر) او نه پیژنی دوی لاره (د چیری تللو له دارالحربه). پس دا عاجزان (چه دی) ښایی چه الله (یعنی هیله ده له الله چه) عفوه وکړی له (ګناهونو د) دوی نه او دی الله ښه عفوه کوونکی (د معذورانو) ښه ښونکی (د خطیاتو).

**تفسیر:** ځینی داسی مسلمانان هم شته چه د زړه له اخلاصه په رښتیا سره مسلمانان دی، مګر د کافرانو تر واک (اختیار) او حکومت لاندی اوسیږی او دوی ته بیخی پره او مغلوبان دی، او د کافرانو له ویری اسلامی خبری په ښکاره دول (طریقه) سره نه شی ویلی او نه د «جهاد» په حکم باندی عمل کولی شی، نو په دوی باندی فرض دی چه له هغه ځایه هجرت وکړی - په دی رکوع کښی هم دا ذکر دی. د آیت خلاصه دا ده «هغه کسان چه پر خپلو ځانونو باندی ظلم کوی یعنی له کافرانو سره یو ځای اوسیږی او هجرت نه کوی نو پرښتی به له دوی ځنی د ځنکدن په وخت کښی پوښتنی کوی چه په کوم دین وئ تاسی؟» دوی به وایی چه «مونږ مسلمانان یو مګر په دنیا کښی مو د ضعف او کمزوری له امله (وجی) د دین خبری نشوی کولی.» نو بیا پرښتی ورته وائی چه «د الله تعالیٰ ځمکه خو دیره پراخه او ارته وه او ستاسی له واکه (اختیاره) هم دا پوره وه چه له هغه ځایه مو هجرت کړی وی.» نو د هسی خلقو ځای دوزخ دی. هو! هغه کسان چه په رښتیا سره ضعیفان دی لکه ښځی او ماشومان چه نه هجرت کولی شی او نه هغوی ته د هجرت تدبیر او لاره معلومه وی، نو دوی د معافی وړ (لائق) دی.

**(فائده):** له دی ځخه راښکاره شوه په هر هغه ملک کښی چه مسلمانان په ښکاره دول (طریقه) سره شرعی ژوندون نه شی کولی له هغه ځایه هجرت کول پر دوی باندی فرض دی او پرته (علاوه) له هغه کسانو چه بیخی بی وزلی (بیوسه) او معذوران دی، نور هیچا ته اجازه نشته چه هلته پاتی شی.

وَمَنْ يُّهَاجِرْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ يَجِدْ فِي الْاَرْضِ مُرٰغَمًا
كَثِيْرًا وَّسَعَةً ؕ وَمَنْ يَّخْرُجْ مِنْۢ بَيْتِهٖ مُهَاجِرًا اِلَى اللّٰهِ
وَرَسُوْلِهٖ ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ اَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِ ؕ
وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿١٠٠﴾

او هر څوک چه وطن پریږدی (او لاړ شی) په لاره د الله کښی نو وبه مومی (دی) په ځمکه کښی (په مقابل د هجرت کښی)، د آرامی ځایونه ډیر او پراخی (د روزی). او هر څوک چه ووځی له کوره خپله په داسی حال کښی چه هجرت کوونکی وی طرف د الله او رسول ته (جهاد، علم، او نورو مشروعو امورو ته) بیا ومومی (لاندی کړی) دی مرګ (بهر له کوره) نو په تحقیق واقع شو اجر (ثواب) د ده پر الله باندی. او دی الله ښه ښښونکی (د خطیاتو) ډیر رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره).

**تفسیر:** په دی آیت کښی د هجرت ترغیب دی، او مهاجرینو ته تسلی او ډاډینه ورکوله شی. یعنی هر هغه څوک چه خاص د الله تعالیٰ لپاره هجرت کوی او خپل وطن (هیواد) پریږدی (او د جهاد یا علم یا حج یا اطاعت یا قناعت یا زهد یا حلال او طیب رزق دپاره سفر کوی) نو د ده د هستوګنی دپاره به ډیر ځایونه پیدا کیږی او د ده په روزی او خوړو کښی به ډیره پراخی راشی، نو د هجرت کولو په وخت کښی له هسی خبری ځنی مه ویریږئ! چه مونږ به چیری اوسیږو؟ او څه شی به خورو؟ او له دی ځنی هم اندیښنه مه کړئ! نه چه په لاره کښی مړه شو او نه چه د دی لوری او هغه لوری له دواړو څخه بی برخی پاتی شو ځکه چه په هسی صورت کښی هم د هجرت پوره ثواب دررسیږی. او موت خو پوره په خپله نیته راځی. او له خپل مقرر وخت څخه هیڅ وړاندی او وروسته نه کیږی.

وَاِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الْاَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَقْصُرُوْا مِنَ الصَّلٰوةِ ۖۗ
اِنْ خِفْتُمْ اَنْ يَّفْتِنَكُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ اِنَّ الْكٰفِرِيْنَ كَانُوْا لَكُمْ عَدُوًّا مُّبِيْنًا ﴿١٠١﴾

او کله چه سفر کوئ تاسی په ځمکه (په ملکونو) کښی پس نشته پر تاسی هیڅ ګناه (وبال) په دی کښی چه څه لندوالی وکړئ تاسی له لمانځه (له

رباعی څخه، نه له ثلاثی او ثنایی نه) که ویریدئ تاسی له دی چه په فتنه کښی به واچوی (ضرر به ورسوی) تاسی ته هغه کسان چه کافران شوی دی بیشکه چه کافران دی تاسی لره دښمنان ښکاره.

**تفسیر:** یعنی کله چه د «جهاد» او د نورو کارونو دپاره سفر کوئ او له کافرانو څخنی (چه ستاسی صریح دښمنان دی) د دی خبری ویره وی. چه دوی به فرصت ومومی او تاسی به وربړوی (تکلیف کړی) نو خپل لمنځونه لند کړئ! یعنی هر هغه لمونځ چه تاسی په حضر کښی څلور رکعته کاوه اوس هغه دوه رکعته وکړئ!.

**(فائده):** زمونږ د حنفیانو په مذهب د سفر ادنٰی مرتبه د دری ورځو مزل دی (د کال په ډیرو لندو ورځو کښی تر زواله پوری، په منځنی تګ سره ګرندی او مته تګ ته هیڅ اعتبار نشته، یعنی که دا مسافه په لږه موده کښی هم قطع کړی، لمونځ به مسافرانه کوی او که نیمایی د دی مسافی په شلو ورځو کښی هم قطع کړی نو لمونځ به پوره اداء کوی. ځکه چه) کم له دری مزلو څخه د لمانځه قصر کول روا نه دی. د کافرانو د ضرر رسولو ویره په هغه وخت کښی موجوده وه، چه دا حکم نازل شو کله چه دا ویره له منځه ورکه شوه نو بیا هم زمونږ (رسول الله صلی علیه وسلم) تل په سفرونو کښی خپل (رباعی) لمنځونه قصر کول او اصحابو ته ئی هم د قصر په نسبت تاکید فرمایه. اوس هم په مسافری کښی د قصر کولو حکم دی دا ذکر شوی ویره وی که نه وی ځکه چه دا د الله تعالیٰ فضل او مهربانی ده. او ښایی چه په ډیره خوښی سره ومنله شی لکه چه د حضرت نبوی صلی الله علیه وسلم په حدیث کښی هم داسی ارشاد شوی دی.

وَإِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلَوٰةَ فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ
مِّنْهُم مَّعَكَ وَلْيَأْخُذُوٓا أَسْلِحَتَهُمْ فَإِذَا سَجَدُوا فَلْيَكُونُوا
مِن وَرَآئِكُمْ وَلْتَأْتِ طَآئِفَةٌ أُخْرَىٰ لَمْ يُصَلُّوا فَلْيُصَلُّوا
مَعَكَ وَلْيَأْخُذُوا حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ وَدَّ الَّذِينَ
كَفَرُوا لَوْ تَغْفُلُونَ عَنْ أَسْلِحَتِكُمْ وَأَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيلُونَ
عَلَيْكُم مَّيْلَةً وَاحِدَةً ط

او کله چه اوسی ته (ای محمده!) په دوی کښی (د دښمنانو د ویری په وخت کښی) پس اقامت وکړی ته دوی ته د لمانځه (نو لښکر خپل دوه طائفی

کړه) پس ودی دریږی یوه طائفه له دوی څخه له تاسره او وادی خلی دا (لمونځ کوونکی) وسلی خپلی نو کله چه سجده وکړه (دوی د دوه رکعتی په اول رکعت کښی او د دری رکعتی او څلور رکعتی په دوهم رکعت کښی) پس شی دی دوی له وروسته ستاسی او رادی شی طائفه بله چه نه وی کړی لمونځ دوی پس لمونځ دی وکړی دوی له تاسره او وادی خلی دوی (هم اسباب د) بیداری خپلی (او د ځان د مدافعی له دښمنه) او وسلی خپلی خوښه ده د هغو کسانو چه کافران شوی دی (دا) که په یو ډول (طریقه) سره غافلان شئ تاسی له وسلو خپلو څخه او له اسبابونو خپلو څخه څو حمله وکړی دوی پر تاسی باندی حمله یوه.

---

**تفسیر:** پخوا د سفر د لمانځه بیان ؤ اوس د خوف د لمانځه بیان دی، یعنی د کافرانو د لښکرو په مقابله کښی دی د مسلمانانو لښکر دوه برخی شی!، یوه برخه دی د دښمن مخ ته ودریږی! او بله برخه دی له امام سره نیم لمونځ اداء کړی! او بیا دی دوی د دښمن مخی ته لاړ شی!، او هغه بله برخه خلق دی راشی! او له امام سره دی هغه پاتی لمونځ اداء کړی!، او د امام له سلام ګرځولو څخه وروسته دی دواړه ډلی د خپلو لمونځونو پاتی برخی یواځی یواځی اداء کړی! که د ماښام لمونځ وی، لومړی ډله دی دوه رکعته او دوهمه ډله دی یو رکعت لمونځ له امام سره وکړی!، او په داسی حالت کښی د لمانځه په منځ کښی تګ او راتګ معاف دی او د توری، ځغری، ډال او د جنګ د نورو سامانونو د ځان سره لرل هم د رسول الله مبارک صلی الله علیه وسلم ارشاد دی. او دا د دی له پاره چه کفارو ته کومه موقع په لاس ور نه شی، او یو ځلی ګرد (ټول) سره په ګډه حمله او یرغل را نه وړی.

---

وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِنْ كَانَ بِكُمْ أَذًى مِّنْ مَّطَرٍ أَوْ كُنْتُمْ مَّرْضَىٰٓ أَنْ تَضَعُوٓا أَسْلِحَتَكُمْ ۖ وَخُذُوا حِذْرَكُمْ ۗ

---

او نشته هیڅ ګناه (وبال) پر تاسی باندی که چیری وی په تاسی باندی څه ضرر (تکلیف) له بارانه یا وئ تاسی ناجوړه چه کیږدئ تاسی وسلی خپلی، او ونیسئ (په هر حال کښی اسباب) د بیداری خپلی (د خپل ځان د مدافعی له دښمنه)

---

**تفسیر:** که د باران یا رنځوری یا د کمزوری له سببه د وسلو اخیستل او چلول مشکل وی، نو په داسی حالت کښی د هغو د کیښودلو اجازه شته - مګر د خپل ځان ساتنه دی کوی مثلاً ځغره،

ډال (توره، تومانچه، توپک، ماشینګن او نور) دی له ځانه سره ولری.
**(فائده):** که د دښمنانو له ویری دومره مهلت او فرصت په لاس ورنشی، چه صلوٰة الخوف (د ویری لمونځ) له پاس ترتیب سره سم اداء کړی شی، نو د جماعت لمونځ دی موقوف کړی او هر مجاهد دی یواځی یواځی لمونځ وکړی! که له سپرلی (سورلئی) څخنی هم د ښکته کیدلو موقع ورمیسره نشی، همغسی دی سپور (سور) په اشاری سره لمونځ وکړی!، او که دښمنان ورته نیژدی وی او په هیڅ ډول (طریقه) لمانځه ته وزګار نه وی نو دلته دی لمونځ مؤخر او بیا دی قضائی راوړی.

إِنَّ ٱللَّهَ أَعَدَّ لِلْكَٰفِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا ﴿١٠٢﴾

بیشکه الله تیار کړی دی دپاره د کافرانو عذاب سپکوونکی.

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ له حکم سره سم له تدبیر، احتیاط او اهتمام څخه کار واخلیٔ! او د الله تعالیٰ فضل ته هیلمن (طمعه دار) او امیدوار اوسیٔ!، چه دی به کافران ستاسی په لاس سپک، خوار او ذلیل کړی. نو له کافرانو څخنی مه ویریږیٔ!.

فَإِذَا قَضَيْتُمُ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ قِيَٰمًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِكُمْ

بیا کله چه اداء کړیٔ تاسی لمونځ نو یادویٔ تاسی الله (یا) پس کله چه اراده وکړیٔ تاسی د ګزارلو د لمانځه نو یادویٔ تاسی الله په ولاړی او په ناستی او پر اړخونو خپلو، (یا) په ولاړی (که روغ یئ) او په ناستی او پر اړخونو خپلو (که ناروغه یئ)،

**تفسیر:** یعنی که د خوف په وخت کښی د تنګی او بی اطمینانی له امله (وجی) په لمانځه کښی کوم ډول (طریقه) قصور راشی نو د «صلوٰة الخوف» له تمامیدلو څخه وروسته په هر وخت او هر حالت کښی (ولاړ ئی! که ناست یا ملاست) الله تعالیٰ یاد کړیٔ! تر دی چه عین د مقاتلی او هجوم او یرغل (حمله) په وخت کښی هم ځکه چه د وخت تعین او د نورو قیودو رعایت کول د لمانځه په حالت کښی وو، چه د زوروړو دښمنانو د مقابلی په وخت کښی د هغو د ادا کولو له امله (وجی) تنګی، او بی اطمینانی او د نورو پیښو احتمال کیدی شی. پرته (علاوه) له لمانځه څخه په هر حالت کښی بی د وخت له تعینه هم تاسی الله تعالیٰ یادویٔ!، او نه ښائی چه په هیڅ حالت کښی د الله له یاده غافل شیٔ! عبدالله بن عباس رضی الله تعالیٰ عنه د دی آیت په آخر کښی فرمایلی دی «هغه څوک چه عقل او سد او حواس ئی د کومی پیښی له امله (وجی) له

کاره لویدلی او معذور شوی وی، نو هغه معذور گڼل کېږي، که نه هیڅوک په هیڅ وخت کښې د
پاک الله له یادولو څخه نشي معذور کېدی.»

فَإِذَا اطْمَأْنَنتُمْ فَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ ۚ إِنَّ الصَّلَوٰةَ كَانَتْ عَلَى
الْمُؤْمِنِينَ كِتَٰبًا مَّوْقُوتًا ﴿١٠٣﴾

پس کله چه په آرام شوئ! نو قائموئ تاسی (سم اداء کوئ سره له تولو
حقوقو) لمونځ!، بیشکه چه لمونځ دی پر مؤمنانو باندی فرض کړی (تاکلی
(مقرر) شوی په معلومو اوقاتو کښې.

**تفسیر:** یعنی کله چه ذکر شوی خوف لرې او زړونه مو داده شي نو هر لمونځ چه کوئ ښائی
چه د ارکانو له تعدیل، د شرایطو له رعایت، د آدابو له محافظی او اطمینان سره ئې اداء کړئ!
لکه چه د امنیت په حالت کښې اداء کاوه شي. د زائدو حرکاتو اجازه چه درکړی شوی ده، هغه
د خوف په لمانځه پوری مخصوصه ده، بیشکه چه لمونځ په خپل معین او تاکلی (مقرر) وخت
کښې فرض دی، نو ښائی په سفر او حضر په اطمینان او خوف، او په هر حالت کښې پخپل هغه
تاکلی (مقرر) وخت کښې دی هرومرو (خامخا) اداء کړ شي! داسی نه چه هر کله مو زړه وشي
اداء ئې کړئ! یا دا مطلب چه د لمانځه په نسبت الله تعالیٰ پوره ضبط او تعیین فرمایلی دی، چه
په حضر کښې څرنگه ښائی او په سفر کښې په څه ډول (طریقه) سره اداء کړی شي؟ د اطمینان
په وخت څنگه کیږی او د خوف په حالت کښې څه وضعیت ښائی؟ نو لازمی او ضروری ده چه
په هر حالت کښې پر لمانځه باندی ټینگ اوسئ! او پخپلو تاکلیو (مقرر) وختونو کښې ئې سره
له دوام او پابندی هرومرو (خامخا) اداء کړئ!

وَلَا تَهِنُوا فِي ابْتِغَاءِ الْقَوْمِ ۖ إِن تَكُونُوا تَأْلَمُونَ فَإِنَّهُمْ يَأْلَمُونَ كَمَا
تَأْلَمُونَ ۖ وَتَرْجُونَ مِنَ اللَّهِ مَا لَا يَرْجُونَ ۗ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١٠٤﴾

او سستی (بی همتی ای! مؤمنانو) مه کوئ! په طلب (تعقیب او جنگ) د
قوم د کفارو کښې، که یئ تاسی چه دردمن کیږئ! نو بیشکه دوی (هم)
دردمن کیږی همغسی چه تاسی دردمن کیږئ! او هیله (امید) لرئ تاسی له
(جانبه د) الله د هغه (ثواب) چه نه لری دوی (کفار) امید، (یې) او دی الله

(په هر شی) ښه عالم ښه حکمت والا (چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی).

**تفسیر:** یعني د کفارو په پلټنه (لټونه) او د دوی په تعقیب کښې له همت څخنی کار واخلئ! او څه کوتاهي او سستي پکښې مه کوئ! که تاسی ته د دوی له جنګه کوم زخم او درد دررسیدلی دی، نو هغوی هم په هم داسی تکالیفو کښې آخته، او په دی کښې له تاسو سره شریکان دی. او وروسته له دی نه هم تاسی له الله جل جلاله څخه د هسی شیانو هیلمن (طمعه دار) او امیدوار یئ! چه دوی له سره په هغو کښې څه برخه او هیله (امید) نه لری، یعني په دنیا کښې په کفارو باندی بری، او په آخرت کښې لوی ثواب. الله تعالیٰ ته ستاسی تول مصالح او اعمال دیر ښه معلوم دی او د الله تعالیٰ د هر حکم چه په هغه کښې ستاسی دیني او دنیوی دیر مصالح او خورا (زیات) حکمتونه دی) امتثال او منل غنیمت او لوی نعمت وګنئ!

إِنَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ لِتَحۡكُمَ بَيۡنَ ٱلنَّاسِ بِمَآ أَرَىٰكَ ٱللَّهُۚ وَلَا تَكُن لِّلۡخَآئِنِينَ خَصِيمٗا ﴿١٠٥﴾

بیشکه مونږ نازل کړی (لیږلی) مو دی تاته (ای محمده!) کتاب (قرآن) په حقه سره دپاره د دی چه حکم وکړی ته (ای محمده!) په منځ د خلقو کښې په هغه طریقه سره چه ښوولی ده تاته الله! او مه کیږه له جانبه د خیانتګرو جګړه کوونکی (د بی ګناهو سره).

**تفسیر:** له منافقانو او ضعیف الاسلام کسانو څخنی به کله چه کوم یو د کومی ګناه یا خرابی مرتکب کیده. نو د بدنامی او د سزا له ویری به ئی ځان ته حیلی (فریبونه) او پلمی (تدبیرونه) جوړولی - او زمونږ د پاک رسول صلی الله علیه وسلم په مخ کښې به ئی د هغی اظهار په هسی دول (طریقه) سره کاوه، چه د دوی برائت تری څرګند شی. بلکه په کوم بری الذمه باندی به ئی تهمت کاوه، او د هغه په مجرم ګرځولو کښې به ئی زور او قوت صرفاوه او راز راز (قسم قسم) پلمی (تدبیرونه) او بهانی او ګدی ودی خبری به ئی سره جوړولی - او په دی مورد کښې به ئی مشوری سره کولی - لکه چه یو ځلی داسی وشو، چه یوه هم داسی مسلمان (طمعه نامی) د بل مسلمان کور سوری کړ، او د هغه څه وسلی، او یو ګودی اوړه ئی په غلا یووړل - اتفاقاً دغه ګودی سوری ؤ - او په ګرده (توله) لاره کښې د غله تر کوره پوری له هغه څخنی اوړه دوریده. غله هسی تدبیر وسنجاوه (جوړ کړو) چه نه ښائی دا د غلا مال پخپل کور کښې کیږدم - نو ځکه ئی په همغه شپه کښې د یوه هسی یهودی (زید نامی) کره یووړ چه د ده آشنا ؤ. او هلته

ئې د امانت په دود (رواج) کيښود، ګهيغ (سحر) د کور خاوند د خپلو اوړو په پلټنې (تحقيق) پسې شو، او غل ئې تينګ ونيو- مګر د لټولو په اثر د ده په کور کښې د غلا شي هيڅ پيدا نه شو - او دغه غله (طمعه) قسمونه يادول، چه «زه له سره غل نه يم - وګورئ! چه د اوړو دوړې زما له کوره هيسته هم تللې دي» - د اوړو خاوند د همغو دوړو په لار برابر د همغه (زيد نامي) يهودي کره ورننووت او هغه ئې کلک ونيو يهودي د هغه په شتو باندې پخپل کور کښې اقرار وکړ او وئې ويل چه «دا مال د هغه مسلمان دی چه پرون شپه ئې د امانت په توګه (طور) ما کره ايښې ؤ، زه له سره غل نه يم» - د اوړو او د وسلې خاوند د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم حضور ته ورغی او دا پيښه ئې سر تر پايه پورې ورته عرض کړه د غله قوم (بني ظفر) او د ده نورو ملګرو اتفاق سره وکړ او پخپلو منځو کښې ئې دا خبره سره غوټه کړه، چه ځانئ مونږ زيار (کوشش) وباسو، چه (طمعه) باندې دغه غلا ثابته نشي او هرومرو (خامخا) همغه يهودي غل وپيژانده شي لکه چه دوی له يهودي سره ډيرې جګړې هم وکړې او د رسول الله صلی الله عليه وسلم په مخ کښې ئې د دغه غله په «برائت» او بيګناهۍ باندې قسمونه ياد کړل او متفقاً ئې شاهدي ووېله او تينګار ئې وکړ چه خامخا دی دغه يهودي د خپل جرم سزا وګالي (برداشت کړي) - دلته الله تبارک وتعالیٰ متعدد آيتونه نازل کړل. حضرت (رسول مقبول صلی الله عليه وسلم) او نور ګرد (ټول) اصحاب رضی الله تعالیٰ عنه ئې متنبه کړل - چه غل هم دغه (طمعه) مسلمان دی - يهودي (زيد بن سمين) رښتيا وائي. او په دې غلا کښې بې ګناه دی. او د تل له پاره ئې د هسې خلقو پلمې (تلبيرونه) ووراني کړې او ګرد (ټول) ئې سره متنبه کړل. د آيت مطلب دا دی «ای رسول الله! مونږ خپل رښتيا کتاب پر تا باندې نازل کړ چه زمونږ له پوهولو او ښوولو سره سم پر ګردو (ټولو) خلقو باندې نيک وی که بد، مؤمن وی، که کافر د عدالت او انصاف امر اجرا کړې! او د هغو کسانو په خبرو باندې چه خائنان او ټګان دي اعتبار مه کوه! او مه ئې طرفدار شه! او د دوی په قسمونو او په شاهدي سره هيڅ يو بې ګناه سړی مه مجرم کوه! يعنې د دغو خائنانو په خوا مه شه! او د يهودي په خلاف خپل حکم مه صادروه!»

---

وَّاسْتَغْفِرِ اللّٰهَ ۗ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿١٠٦﴾ۚ

---

او مغفرت وغواړه له الله؛ بيشکه چه الله دی ښه مغفرت کوونکی (د خطياتو) ډير رحم والا دی (په انعام د اجر او ثواب سره).

---

**تفسير:** يعنې له تحقيقه مخه پخوا تش په ظاهر سره غل بری الذمه ګڼل او په ناحقه سره پر يهودي باندې د غله خيال کول، ستا د عصمت او د عظمت له شان سره مناسب نه دی. او له دې مخه استغفار په کار دی. په دې کښې هغو مخلصانو اصحابو ته پوره تنبيه وشوه، چه د اسلامي تعلق، يا د قومي احساس او نورو عواملو له امله (وجې) ئې پر هغه باندې د حسن ظن له کبله د

ښو ګمان کاوه، او زيار (محنت) ئې ايسته چه پر همغه يهودي باندې غلا ثابته شي.

وَلَا تُجَادِلْ عَنِ الَّذِينَ يَخْتَانُونَ أَنفُسَهُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ مَن كَانَ خَوَّانًا أَثِيمًا ﴿١٠٧﴾ يَسْتَخْفُونَ مِنَ النَّاسِ وَلَا يَسْتَخْفُونَ مِنَ اللَّهِ وَهُوَ مَعَهُمْ إِذْ يُبَيِّتُونَ مَا لَا يَرْضَىٰ مِنَ الْقَوْلِ ۚ وَكَانَ اللَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطًا ﴿١٠٨﴾

او مه کوه جګړه له (طرفه د) هغو کسانو چه خيانت کوي دوی له ځانونو خپلو سره بيشکه چه الله نه خوښوي هر هغه څوک چه وي ډير خيانت کوونکې ګنهګار چه پټوي دوی (له شرمه دا خيانت) له خلقو څخه او نه ئې پټوي (نه شرميږي) له الله نه حال دا چه الله (تل) له دوی سره دی (په خپل علم) کله چه د شپې تدبيرونه تړي دوی هغه چه نه ئې خوښوي (الله) له خبرو څخه، او دی الله پر هغو (کارونو) چه کوي (ئې) دوی محيط (چاپيريدونکی په علم او قدرت سره).

**تفسير:** په پخواني آيت کښې کله چه د هغوی خيانت او خرابي په ښکاره دول (طريقه) سره وښوول شوه ـ نو ښائي چه رسول الله صلی الله عليه وسلم به د هغه زيات شفقت له امله (وجې) چه ده پر ګردو (ټولو) بالخصوص په خپل امت درلود (لرلو)، له حق تعالیٰ څخنې د دوی د خطاؤ د مغفرت په نسبت د څه دعا کولو په فکر کښې ؤ؛ نو ځکه داسې ارشاد وشو چه د دې خائنانو په طرفداری، له الله تعالیٰ سره ولې جګړې کوې ـ الله تعالیٰ داسې خلق نه خوښوي چه دوی له خلقو سره پټې پټې د شپې له مخې ناجائزې مشورې او جرګې کوي ـ او له الله تعالیٰ څخنې هيڅ نه شرميږي، چه هر وخت له هغوی سره دی او د دوی پر ګردو (ټولو) احوالو باندې محيط، عليم او خبير دی ـ اګر که تاسې د دوی له پاره مغفرت نه دی غوښتې، ولې ستاسې د معافي غوښتلو احتمال خو يقيناً موجود ؤ وګورئ! په بل ځای کښې د حضرت (ابراهيم عليه السلام) په نسبت د ﴿ يُجَادِلُنَا فِي قَوْمِ لُوطٍ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ لَحَلِيمٌ أَوَّاهٌ مُّنِيبٌ ﴾ صريح ارشاد موجود دی. نو د هغه مخنيوی له پاره حق تعالیٰ دا ارشاد وفرمايه او دی ئې له سپارښ کولو څخه منع کړ. والله اعلم.

هَٰٓأَنتُمْ هَٰٓؤُلَآءِ جَٰدَلْتُمْ عَنْهُمْ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا فَمَن يُجَٰدِلُ ٱللَّهَ عَنْهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ أَم مَّن يَكُونُ عَلَيْهِمْ وَكِيلًا ﴿١٠٩﴾

واورئ خبردار شئ! تاسي ای هغو کسانو چه جګړه کوئ له (طرفه د) دوی په دی حیات دنیوی (ژوندون لږ خسیس) کښې؛ پس څوک دی چه جګړه به وکړی له الله سره له (طرفه د) دغو (خیانتګرو) په ورځی د قیامت کښې بلکه آیا څوک دی چه وی به (د قیامت په ورځی کښې) د دوی وکیل (ساتونکی؟ بلکه هیڅوک نشته!).

**تفسیر:** دا خطاب د غله قوم (بنی ظفر) او هغو کسانو ته دی، چه د غله (طعمه) طرفداری ئی کوله. یعنی الله تعالیٰ ته هر شی معلوم دی. له دی بیځایه طرفداری ـ څخه د قیامت په ورځ غله ته هیڅ نفع نشی رسیدی.

وَمَن يَعْمَلْ سُوٓءًا أَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهُۥ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ ٱللَّهَ يَجِدِ ٱللَّهَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١١٠﴾

او هر څوک چه وکړی یوه ګناه (چه ضرر ئی بل ته رسیږی) یا ظلم وکړی په خپل ځان بیا مغفرت وغواړی له الله څخه (نو) مومی الله ډیر مغفرت کوونکی (د خطیاتو) ډیر رحم والا (د اجر او ثواب په انعام سره).

**تفسیر:** له «سوء» لویه، او له «ظلم» څخه وړه ګناه مراد ده. یا له «سوء» څخه هغه ګناه مراد ده چه له «ظلم» څخه دا مراد دی، چه ضرر ئی یوازی د ده نفس ته رسیږی یعنی هر قسم ګناه چه وی، د هغې علاج په توبه او استغفار سره کیدی شی، وروسته له توبی څخه به ئی الله تعالیٰ معافوی. که بنیادمان قصداً او عمداً په چل او فریب سره د کوم مجرم برائت او پاکی ثابته کړی. یا په غلطی سره مجرم بی ګناه وګنی، نو له دی ځنې د هغه په جرم کښې هیڅ تخفیف نه راځی. هو! په توبه سره به بیخی معافیدی شی. په دی سره هغه غل او د هغه تول ګوند (پارټی) او طرفدارانو ته چه سره له پوهی او علمه ئی د غله خوا نیولی وه، یا ئی په غلطی سره مجرم بی ګناه ګانه، ګردو (تولو) ته د توبی او د استغفار ارشاد او هدایت وشو. او یوه لطیفه اشاره په دی لوری هم وشوه چه که اوس هم څوک همغسی پخپله خبره باندی تینګ ولاړ وی، او

توبه ونه کړی، نو د الله تعالیٰ د مغفرت له وعدی، او د ده له رحمت ځنی بی برخی پاتی کیږی (او که ئی تفضلاً معافوی نو د ده اختیار دی).

وَمَنْ يَّكْسِبْ إِثْمًا فَإِنَّمَا يَكْسِبُهٗ عَلٰى نَفْسِهٖ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۱۱۱﴾

او هر څوک چه وکړی گناه نو بیشکه هم دا خبره ده چه کوی دا (گناه) په ځان خپل باندی او دی الله ښه عالم (په پټو او ښکاره ؤ) ښه حکمت والا (چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی).

**تفسیر:** یعنی څوک چه په قصد سره گناه کوی د هغی وبال ئی په غاړه لویږی او د هغی سزا خاص همغه ته ورکوله کیږی نه بل چاته ځکه چه د یوه سزا بل ته هغه څوک ورکوی چه له حقیقت څخه بی خبره یا له حکمت ځنی بیخی بی برخی وی. مگر حق سبحانه وتعالیٰ بی له مبالغی په صیغه د مبالغی سره «علیم» او «حکیم» دی. د ده په لوی دربار کښی داسی چاری هیڅ کیدونکی نه دی او نه ئی وهم او تصور کیدی شی. نو اوس له دی ځنی چه په خپله غلا وکړی او بیا هغه غلا د یو یهودی په غاړه ورواچوی څه نفع وررسیدی شی؟

وَمَنْ يَّكْسِبْ خَطِيْٓئَةً أَوْ إِثْمًا ثُمَّ يَرْمِ بِهٖ بَرِيْٓـًٔا فَقَدِ احْتَمَلَ بُهْتَانًا وَّإِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿۱۱۲﴾ ع

او هر څوک چه وکړی یوه وړه گناه یا یوه لویه گناه بیا ولی (متهم کړی) په دی (گناه) سره کوم پاک سړی پس په تحقیق بار ئی کړ (پر ځان خپل) ډیر غټ دروغ او گناه ښکاره.

**تفسیر:** یعنی هر څوک چه کومه وړه یا لویه گناه وکړی او بیا هغه د کوم بل بیگناه په غاړه ورواچوی نو په ده باندی دوه گناوی لازمیږی یو د دروغو د تهمت وبال بل د اصلی گناه وبال نو ښکاره شوه چه په دی سره چه (طعمه) په خپله گناه کړی وه او بیا ئی د یهودی (زید) په غاړه کښی واچوله د ده د گناه بار لا درووند شو او هیڅ یوه گټه ور په برخه نشوه او ښکاره ده چه گناه لویه وی که وړه د هغی کفاره او علاج یواځی په خالصه توبه سره کیږی او بل څه علاج نه لری.

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُهٗ لَهَمَّتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ
اَنْ يُّضِلُّوْكَ ؕ وَمَا يُضِلُّوْنَ اِلَّاۤ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَضُرُّوْنَكَ مِنْ
شَیْءٍ ؕ وَاَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَكَ
مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ ؕ وَكَانَ فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ عَظِيْمًا ﴿١١٣﴾

او كه چيرى نه وى فضل (احسان) د الله پر تا باندى او رحمت (مهربانى) د ده نو هرومرو (خامخا) قصد كړى ؤ يوى طائفى له دوى د دى چه تير باسى تا (او گمراه كړى پخپل قصد سره تا)؛ او نه تير باسى دوى مگر ځانونه خپل او نشى ضرر رسولى تاته د هيڅ شى؛ او نازل كړى دى الله پر تا باندى (اى محمده!) كتاب او حكمت (شرعى احكام، عميق اسرار) او دربنوولى ئى دى تاته هغه (خبرى) چه ته نه وى پوهيدلى (پرى) او دى فضل (احسان رحمت) د الله پر تا باندى ډير لوى.

**تفسير:** دا خطاب د رسول كريم (عليه افضل الصلوٰة والتسليم) په لورى دى. او د خائنانو د چل او فريب اظهار او د ده مبارك د عصمت او د شان عظمت دى او د دى خبرى اعلام دى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم په علمى كمال كښى (چه له گردو (تولو) كمالاتو ځنى افضل او اول او پر گردو (تولو) باندى فائق دى) هم اعلىٰ او اولىٰ دى او د الله تعالىٰ فضل او كرم پر ده باندى داسى بى نهايت دى چه زمونږ په بيان او پوهه كښى له سره نشى راتلى او د دى خبرى په لورى اشاره ده كوم خيال چه په اول كښى ده ته د غله په برائت او د يهودى په سرقت باندى پيدا شوى ؤ د هغه د ظاهرى اسبابو او عواملو د ليدلو او د اقوالو او شهاداتو له اوريدلو ځنى ؤ نه دا چه هغه ئى بيخى رښتيا او صحيح گڼلى ؤ او په هغه كښى **«ميلان عن الحق»** يا **«مداهنة فى الحق»** له سره نه وه او په دومره يوه خبره كښى هيڅ كومه خرابى نه وه بلكه د هم داسى يو كار كيدل ضرورى ؤ كله چه د الله تعالىٰ په فضل سره حقيقت ورڅرگند شو نو بل هيڅ يوه وسوسه باقى پاتى نه شوه او له دغو گردو(تولو) خبرو څخه مقصود دا دى چه وروسته له دى نه هغه تير ايستونكى ستاسى د تير ايستلو او فريب وركولو ځنى لاس ونيسى او مايوس شى او تاسى سم له خپل عظمت او تقدسه له غور او احتياط څخه كار واخلئ!. والله اعلم.

لَا خَيْرَ فِیْ كَثِيْرٍ مِّنْ نَّجْوٰىهُمْ اِلَّا مَنْ اَمَرَ بِصَدَقَةٍ اَوْ

مَعْرُوْفٍ اَوْ اِصْلَاحٍۭ بَیْنَ النَّاسِ ؕ وَمَنْ یَّفْعَلْ ذٰلِكَ
ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ فَسَوْفَ نُؤْتِیْهِ اَجْرًا عَظِیْمًا ﴿۱۱۴﴾

نشته هیڅ خیر په ډیرو کښې له پټو خبرو (مشورو) د دوی نه مګر (خیر شته په پټو خبرو) د هغه چا چه امر کوی په صدقه کولو یا په معروف (نیک کار) یا په اصلاح (روغه) په منځ د خلقو؛ او هر څوک چه وکړی دغه (صدقه، معروف، اصلاح) دپاره د غوښتنې د رضا (خوښی) د الله پس ژر به ورکړو مونږ ده ته اجر (ثواب) ډیر لوی.

**تفسیر:** منافقانو او حیله ګرانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په غوږ کښې پټې خبرې کولې تر څو چه په هغو سره په خلقو کښې خپل اعتبار زیات کړی او پخپلو منځو کښې به ئې هم چټې پټې (بیکاره) خبرې سره کولې او د یوه او بل غیبت یا شکایت به ئې سره کاوه، نو ځکه ارشاد وشو هغه کسان چه په خپلو منځو کښې د یو بل په غوږونو کښې خبرې او مشورې کوی د دوی زیاترې مشورې له خیر څخه تشې وی د صافو او رښتیا خبرو پټولو ته څه حاجت دی؟ هو! په کومه خبره کښې چه تیرایستل او فریب وی دوی هغه په پټه کوی نو ښایی چه د صدقې او د خیرات خبرې په پټه وکړئ! چه اخیستونکی پرې ونه شرمیږی یا که کوم ناپوه په خپلې غلطۍ باندې پوهوی، یا که کومه ښه خبره او صحیحه مسئله وروښیی نو ښایی چه هغه په پټه سره ووایی چه هغه ته ندامت رانشی یا که د دوه ؤ تنو په منځ جنګ وی او دوی د قهر او غصې له امله (وجې) روغې ته غاړه نه ږدی نو ښایی چه اول کوم یو داسې تدبیر وسنجوی (جوړ کړی) چه په هغو سره د دوی دواړو په منځ کښې روغه وشی او بیا دوی ښه وپوهوی تر دی چه په دا ځای کښې د «توریې ـ پټولو» اجازه هم شته. په آخر کښې فرمائی «هر څوک چه دا ذکر شوی امور د الله تعالیٰ رضا او خوښی له پاره کوی هغه ته به عظیم الشان ثواب ورعنایت کیږی یعنی په هسې ښو کارونو کښې دی ښایی ریاکاری او دنیوی اغراض مقصود نه وی (ځینو د «بصدقة او معروف» تفسیر داسې کړی دی په خیرات ورکولو یا په قرض ورکولو یا د مظلوم په اعانت یا په هر نیک کار کښې. یا مراد له «صدقې» څخه «زکوٰة» او له «معروف» څخه «خیرات» مقصود دی.)

وَمَنْ یُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَیَّنَ لَهُ الْهُدٰی وَیَتَّبِعْ غَیْرَ
سَبِیْلِ الْمُؤْمِنِیْنَ نُوَلِّهٖ مَا تَوَلّٰی وَنُصْلِهٖ جَهَنَّمَ ؕ وَسَآءَتْ مَصِیْرًا ﴿۱۱۵﴾

او هر څوک چه مخالفت کوی له رسوله وروسته له هغه چه ښکاره شوه ده ته سمه لاره او تابع شی (لاړ شی) بی له لاری د مؤمنانو نو ویه گرځوو مونږ دی هغه لوری ته چه دی ورگرځیدلی دی او داخل به کړو مونږ دی جهنم (دوزخ) ته؛ او بد ځای د ورتلو دی (دا دوزخ).

**تفسیر:** یعنی کله چه کوم یوه ته حقه خبره واضح شوی وی او وروسته له هغه بیا هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم له حکمه مخالفت وکړی او له گردو(تولو) مسلمانانو څخه بیل او ځانته بله کومه جلا (جدا) لاره غوره کړی نو د ده د هستوگنی ځای جهنم دی. لکه چه هغه غله وکړه چه ذکر ئی پخوا تیر شو. د دی په ځای چه هغه په خپل قصور باندی معترف کیده او توبه ئی ایستله، د خپل لاس د پری کیدلو له ویری (مرتد شو او) مکی معظمی ته وتښتید او له نورو مشرکانو سره ملگری شو.

**(فائده):** اکابرو علماؤ له دی آیت څخه دا مسئله هم رایستلی ده چه د امت د اجماع منکر او مخالف هم جهنمی دی. یعنی د امت اجماع منل هم فرض دی. په حدیث کښی وارد دی چه «د الله تعالیٰ حمایت او نصرت د مسلمانانو له تولگی سره دی. هر چا چه ځانته جلا (جدا) لاره غوره کړه هغه په دوزخ کښی ولوید» **(اللهم اعذنا منه!)**

إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ ۚ

بیشکه الله نه کوی مغفرت (نه ښبښی) دا چه شریک ونیول شی له ده سره او مغفرت کوی (ښبښی) هغه (گناه) چه ښکته وی له دی (شرک او کفر نه) هغه چاته چه اراده وفرمائی د «مغفرت ئی»؛

**تفسیر:** یعنی له شرک او کفر څخه هره ښکته گناه چه وی که الله تعالیٰ اراده وفرمائی ښښی ئی، مگر د شرک او کفر ښښل له سره نه کوی. او د مشرک او کافر له پاره ئی عذاب مقرر کړی دی. نو غلا او تهمت کول اگر که کبیره گناه ده ـ مگر دا احتمال هم ؤ چه الله تعالیٰ په خپل رحمت سره هغه ښښلی وی لیکن کله چه هغه غل د رسول الله صلی الله علیه وسلم له حکم څخه وتښتید او له مشرکانو سره گډ او ملگری شو نو اوس د هغه د مغفرت احتمال هم له منځه ولاړ.

**(فائده):** له دی نه دا هم راښکاره شوه چه شرک هم دا نه دی چه د ماسویٰ الله عبادت وکړی شی، بلکه د الله جل جلاله د حکم په مقابل کښی د بل کوم حکم غوره کول، هم شرک دی.

وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا ﴿١١٦﴾

او هر څوک چه شریک ونیسی (کوم شی) له الله سره نو په تحقیق گمراه شوی دی په گمراهی لری (له حقه).

**تفسیر:** یعنی له هدایت څخه لری ولوید ـ ځکه چه له الله جل جلاله ځنی په صراحت سره منحرف شو. او د پاک الله په مقابل کښی ئی خپل معبود بل څوک وگرځاوه ـ او د شیطان مطیع شو او د الله تعالیٰ له اطاعت او د هغه له رحمت ځنی بیخی مستغنی شو. نو هر څوک چه دومره لری ولویږی، هغه به په څه ډول (طریقه) سره د الله تعالیٰ د رحمت او د ده د مغفرت مستحق شی! بلکه د داسی سړی مغفرت ښائی له حکمت ځنی مخالف وی. هم دا وجه ده چه داسی کسان له مغفرت ځنی بیخی مأیوس گرځول شوی دی. او مسلمان هر څومره چه سخت گنهگار هم وی، څرنگه چه د هغه خرابی یواځی د ده تر اعمالو پوری ده، او د ده عقیده او تعلق او توقع گرد (تول) صحیح او درست دی، نو ده ته هرومرو (خامخا) ژر یا وروسته هر کله چه الله تعالیٰ اراده وفرمائی، مغفرت ور په برخه کیږی. **(اللهم ارزقنا المغفرة!)**

إِن يَدْعُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ إِنَٰثًا وَإِن يَدْعُونَ إِلَّا شَيْطَٰنًا مَّرِيدًا ﴿١١٧﴾ لَّعَنَهُ ٱللَّهُ

نه بولی دوی (عبادت نه کوی دا مشرکان) بی الله نه مگر د ښځو او نه بولی (عبادت نه کوی دوی) مگر د شیطان سرکښ چه لری کړی ئی دی الله (له رحمته خپله).

**تفسیر:** یعنی هغه شیان چه دغو مشرکانو له الله تعالیٰ ځنی پرته (علاوه) خپل معبودان گرځولی دی په هغو کښی هغه بتان هم شامل دی چه دوی پر هغو باندی د ښځو غوندی نومونه ایښی دی. لکه «عزیٰ مناة نائلة او نور» او که حقیقت ته وگورئ! نو دغه مشرکان د ملعون او سرکښ شیطان عبادت کوی. او هم دی شیطان دا مشرکان تیرایستلی دی. او مشرکان په دی بت پرستی کښی د شیطان امر منی او د هغه زیاته خوښی ځان ته حاصلوی. په دی سره د مشرکانو انتهائی ضلالت او جهالت ښکارول مقصود دی. وگورئ! اول خو له دی څخه بل لوی ضلالت شته؟ چه بی له الله جل جلاله بل څوک خپل معبود وگرځوی؟، نو بیا چه معبود ئی گرځولی دی، څه شی دی؟ تیږی! (گټی) چه په هغو کښی هیڅ قسم حس او حرکت هم نشته. او د ښځو په نومونو سره هم موسوم دی. او د چا په وینا او ښوونه؟ د هغه شیطان په لمسونه چه د پاک الله له درباره مردود رټلی او ملعون شوی دی. نو آیا د دی ضلالت او جهالت بل کوم نظیر چیری پیدا کیدی

شي؟ او خورا (ډير) لوی احمق هم دا خبره منلی شي؟

وَقَالَ لَأَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا ﴿١١٨﴾

او وويل (شيطان) چه خامخا به ونيسمه هرومرو (خامخا) زه (ای الله!) له بندګانو ستا نه يوه برخه مقرره کړی شوی.

**تفسير:** يعني کله چه شيطان د سجدی په نه کولو سره ملعون او مردود شو نو په هغه وخت کښی ئی وويل «زه خو تباه او فنا شوم. مګر ستا له بندګانو د آدم عليه السلام له اولادی څخنی به زه يو معلوم مقدار او لويه برخه لمسوم او خطا باسم. او له خپله ځانه سره به ئی جهنم ته بيايم لکه چه په «الحجر» او په «بنی اسرائيل» او نورو سورتونو کښی مذکور دی. مطلب ئی دا دی چه شيطان له متمرد او ملعون کيدلو څخه علاوه خو له اولی ورځی راهيسی د ګردو (ټولو) بنی آدمانو دښمن او بدی غوښتونکی دی او خپله دښمنی ئی په صاف ډول (طريقه) سره ښکاره کړی ده. نو اوس دا احتمال هم پاتی نشو چه ګواکی شيطان سره له خبث او ګمراهی ښايی چاته به د خير غوښتلو او ښه رسولو کومه خبره وروښيی بلکه دا لا څرګنده شوه، چه شيطان د بنی آدمانو ازلی دښمن دی او هر هغه شی چه شيطان راښيی هغه د بنی آدمانو د ګمراهی او تباهی او بربادی سبب ګرځی. بيا د هسی يو ګمراه او بدخواه اطاعت په څه اندازه جهالت او نادانی ده؟ د مقرری حصی اخيستلو يوه معنٰی دا هم ده چه ستا بندګان به پخپلو مالونو کښی ما لره هم يوه برخه ټاکی (مقرروی) لکه چه خلق بتانو جنياتو او پرته (علاوه) له الله نورو ته نذرونه او نيازونه ورکوی.

وَلَأُضِلَّنَّهُمْ وَلَأُمَنِّيَنَّهُمْ وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُبَتِّكُنَّ آذَانَ الْأَنْعَامِ وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللَّهِ ۚ

او زه به هرومرو (لازماً) ګمراه کړم خامخا دوی او هرومرو (لازماً) زه به په باطلو اميدو کښی خامخا واچوم دوی او هرومرو لازماً) زه به امر وکړم خامخا دوی ته چه پس هرومرو لازماً) څيروی به دوی خامخا غوږونه د چارپايانو او زه به هرومرو (لازماً) امر وکړم خامخا دوی ته پس هرومرو (لازماً) تغير به ورکړی دوی خامخا پيدايښت د الله ته.

**تفسير:** يعني هغه کسان چه زما په برخه کښی راځی، دوی به له حقی لاری څخنی ګمراه کوم. او

د دوی په زړونو کښې به د دنیوی ژوندون او د فاني دنیا مینه اچوم او دوی به له قیامت، حساب او کتاب او نورو اخروی امورو څخه غافل کوم. او دا خبره به دوی ته ورښیم چه د څناورانو غوږونه څیری کړی او د بتانو په نامه ئی خوشی کړی. او د الله تعالیٰ پیدا کړی صورتونه او د هغو مقرری کړی څیری واړوی.

**(فائده):** د کافرانو دستور ؤ چه د غوا خوسی، د میږی (ګډی) وری او د اوښ جونګی به ئی د بت په نامه کول. او د هغو غوږونه به ئی څیرول، او په غوږونو کښې به ئی نښی اچولی بیا به ئی سرخوشی پریښودل د صورت بدلول لکه خصی کول یا په ستنو سره د بدن سوری کول او په هغه سره شنه یا بل ډول (طریقه) خالونه ایښوول یا زرغون داغ ورکول یا د وړوکی پر سر باندی په کوم اسم او رسم سره کمڅی او بل رنګ ویښتان د بل چا په نامه پریښوول دی (یا په منهیاتو کښې د خپلو اندامو خوځول. یا د حلالو تحریم یا د حرامو تحلیل او نور) چه په مونږ مسلمانانو باندی لازم دی، چه له دغو ګردو (تولو) کارونو څخنی خپل ځانونه وژغورو (وساتو).
د ږیری کلول (خرئیل) هم په هم دی تغیر کښې داخل دی. او د الله تعالیٰ هر څومره احکام چه دی په هر یوه کښې تغیر کول ډیره سخته خبره ده. هر هغه شی چه الله تعالیٰ حلال کړی دی، د هغه حرامول، یا ئی حرام حلال ګڼل. انسان له اسلام څخنی باسی. نو هر څوک چه په داسی خبرو کښې مبتلا وی: په یاد دی ولری، چه د هغه شیطان په همغه تاکلی (مقرره) برخه کښې داخل دی، چه ذکر ئی اوس تیر شو.

---

وَمَنْ يَتَّخِذِ الشَّيْطٰنَ وَلِيًّا مِّنْ دُوْنِ اللهِ فَقَدْ خَسِرَ خُسْرَانًا مُّبِيْنًا ﴿١١٩﴾
يَعِدُهُمْ وَيُمَنِّيْهِمْ ۚ وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطٰنُ اِلَّا غُرُوْرًا ﴿١٢٠﴾ اُولٰٓئِكَ
مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۫ وَلَا يَجِدُوْنَ عَنْهَا مَحِيْصًا ﴿١٢١﴾

---

او هر څوک چه ونیسی شیطان دوست بی له الله نو په تحقیق زیان ئی وکړ زیان ښکاره. وعده کوی (شیطان) له دوی سره او په باطلو امیدونو کښې غورځوی دوی. او نه کوی وعده له دوی سره شیطان مګر په فریب دغه (تابعان د شیطان) ځای د دوی جهنم (دوزخ) دی او نه به مومی دوی له دی دوزخه هیڅ ځای د تیښتی (او خلاصی).

---

**تفسیر:** یعنی کله چه د شیطان خباثت او شرارت، او د ده د عداوت کیفیت ښه معلوم شو، نو اوس په دی کښې هیڅ شک پاتی نشو. هر هغه څوک چه له خپل حقیقی معبود څخه منحرف او د شیطان موافقت کوی، په سختو نقصانونو کښې لوېږی د شیطان تولی وعدی او امیدونه محض

فریب دی او نتیجه ئی داسی کیږی چه د دوی د ګردو (تولو) د هستوګنی ځای دوزخ دی. او
له دوزخ څخه د دوی د وتلو هیڅ یو امکان نشته.

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ
تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۭ وَعْدَ اللّٰهِ
حَقًّا ۭ وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ قِيْلًا ﴿١٢٢﴾

او هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه) نو ژر به
داخل کړو مونږ دوی په جنتونو کښی چه بهیږی له لاندی (د ماڼیو او ونو) د
دوی ویالی چه همیشه به وی دوی په دغو (جنتونو) کښی تل تر تله؛ وعده
کړی ده الله حقه (وعده)؛ او څوک دی زیات صادق (رښتینی) له الله نه په
خبره «او وعده» کښی.

**تفسیر:** یعنی هغه خلق چه د شیطان له فساد څخنی محفوظ دی او د الله تعالیٰ له ارشاده سره سم
ئی ایمان راوړی دی او ښه عملونه ئی کړی دی دوی به تل په داسی جنتونو او باغونو کښی ښه
ژوندون کوی چه د تل له پاره پکښی پسرلی وی او دا د الله تعالیٰ وعده ده چه له دی څخه د بل
هیچا وعده رښتیا کیدی نشی، نو بیا د هسی رښتیا او پخی وعدی پریښودل، او د شیطان په
دروغو خبرو باندی خطا وتل، څومره ګمراهی او په څه اندازه ځانته ضرر رسول دی؟

لَيْسَ بِاَمَانِيِّكُمْ وَلَآ اَمَانِيِّ اَهْلِ الْكِتٰبِ ۭ مَنْ يَّعْمَلْ سُوْۗءًا يُّجْزَ بِهٖ ۙ
وَلَا يَجِدْ لَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿١٢٣﴾ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِنَ
الصّٰلِحٰتِ مِنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰۗىِٕكَ يَدْخُلُوْنَ
الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُوْنَ نَقِيْرًا ﴿١٢٤﴾

نه دی (ثواب او عقاب مرتب) پر امیدونو (آرزوګانو) ستاسی او نه پر
امیدونو «آرزوګانو» د اهل د کتاب (بلکه پر ښو عملونو پوری مربوط دی)؛

هر څوک چه وکړی ناکاره کار نو جزا به ورکړه شی ده ته په هغه سره او نه به مومی دغه (ګنهګار) د ځان دپاره بی له الله نه هیڅ ولی (دوست) او نه مددګار (چه دی له عذابه خلاص کړی) او هر څوک چه عمل وکړی له (ځینو) نیکو «کارونو» له نارینه ؤ او له ښځو حال دا چه دی مؤمن وی نو دغه (نیکوکاران) داخل به شی په جنت کښی او ظلم به ونشی په دوی (په اندازه) د نقیر (هم یعنی پر دوی په هیڅ شی کښی هیڅ ظلم نه کیږی).

---

**تفسیر:** د کتابیانو یعنی د یهودانو او نصرانیانو دا خیال ؤ، چه مونږ د الله تعالیٰ خاص بندګان یو او پر هغو ګناهونو چه نور خلق نیول کیږی مونږ نه نیول کیږو، انبیاء علیه السلام زمونږ حمایت کوی او مونږ ته نجات راکوی او د اهل الاسلام نادانانو به هم داسی خیال کاوه ـ نو الله جل جلاله وفرمایل چه نجات او ثواب د چا په امید او خیال موقوف او منحصر نه دی، هر څوک چه بد کوی بد به مومی او رېږ (تکلیف) به ګالی (تیروی). هر څوک چه وی د الله تعالیٰ له حساب، کتاب او عذاب ځنی ځان نشی ژغورلی (بچ کولی) او نه ئی څوک حمایت او طرفداری کولی شی. پاک خدای چه هر څوک ونیسی همغه ئی خوشی کوی او نجات ورکوی، لکه چه په هم دی لږه او خسیسه دنیا کښی چه الله تعالیٰ رنځ او درد د چا په برخه کړی، بی له الله جل جلاله بل هیڅوک هغه نشی تری لری کولی. هر هغه څوک چه ایمان ولری او نیک عمل وکړی نو هسی کسان به په جنت کښی داخلیږی او د خپلو نیکیو پوره ثواب به مومی ـ خلاصه دا چه د ثواب او عقاب تعلق له عقائدو او اعمالو سره دی. د چا په امید او آرزو سره هیڅ نشی کیدی ـ نو داسی امیدونه په لغته (لته) ووهئ! او په نیکو کارونو کښی زیار(محنت) وباسئ!، او همت وکړئ! (نقیر هغه ډیر نری شی ته وائی چه د خرما د زړی په نری چاود کښی وی.)

---

وَمَنْ اَحْسَنُ دِيْنًا مِّمَّنْ اَسْلَمَ وَجْهَهٗ لِلّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ وَّاتَّبَعَ مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا ؕ وَاتَّخَذَ اللّٰهُ اِبْرٰهِيْمَ خَلِيْلًا ﴿۱۲۵﴾

---

او څوک دی ډیر غوره له جهته د دین له هغه چا چه ایښی ئی وی مخ خپل (وچولی (تندی) یا ځان خپل) «(خاص حکم د)» الله ته حال دا چه دی نیکوکار وی او متابعت ئی کړی وی د ملت (دین) د ابراهیم حال دا چه دی حنیف ؤ (مائل ؤ له باطله حق ته) او نیولی دی الله ابراهیم دوست (خاص خپل).

**تفسیر:** پخوا معلومه شوه چه د الله تعالیٰ په نزد یواځې اعتقاد او اعمال اعتبار لري او خوشې چتې (بیکاره) هیلې (بهانې)، امیدونه او آرزوګانې هیڅ یوه نتیجه نه ورکوي اهل د کتابونو او نورو ګردو (ټولو) لره هم دا کلیه قاعده مقرره ده چه په دې کښې اهل د اسلام ته اشاره ده یعنې د حضرات صحابه ؤ رضي الله تعالیٰ عنهم تعریف او فضیلت او د اهل کتابو مذمت او خرابي ده. اوس په ښکاره دول (طریقه) سره فرمایي چه په دیانت کښې له داسې سړي سره څوک مقابله کولی شي چه د الله تعالیٰ له حکمونو څخه غاړه نه غړوي، او په نیکو کارونو پسې له زړه کرڅي؟ او په رښتیا سره د حضرت ابراهیم علیه السلام د ملت او دین ښه متابعت کوي، چه هغه له ګردو (ټولو) څخه ځان شکولی او له پاک الله سره ئې خپل تعلق او ارتباط ټینګ کړی ؤ او پاک الله هم هغه په خپلې دوستۍ او خلت سره غوره کړی ؤ. ښکاره ده چه دا دری واړه صفتونه په حضرات صحابه ؤ (رضي الله تعالیٰ عنهم) کښې د کمال په توګه (طور) موجود وو نه په کتابیانو کښې، نو په دې قیودو سره د اهل کتاب هغه آرزو او هیله چه پخوا تیره شوه، بیخي باطله او چتې (بیکاره) ثابته شوه.

---

وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيْطًا ۝

---

او (خاص) الله لره دي هر هغه شیان چه په آسمانونو کښې دي او هر هغه شیان چه په ځمکه کښې دي (سره له آسمانونو او ځمکې ملکاً خلقاً او عبیداً)؛ او دی الله پر هر شي ښه احاطه کوونکی (په خپل علم او قدرت سره).

---

**تفسیر:** یعنې په ځمکه او آسمان کښې څه شیان چه دي سره له آسمانونو او ځمکو د هغو ګردو (ټولو) خالق الله تعالیٰ دی او دغه ګرد (ټول) شیان د پاک الله بندګان، مخلوق، مملوک او د ده جل وعلا شانه په واک (اختیار) او قبضه کښې دي او پخپل رحمت او حکمت سره له هر چا سره هره معامله چه اراده ئې وفرمایي همغه کوي پاک الله هیچا ته څه اړه (حاجت) او احتیاج نه لري. هیڅوک دی په دې سره داده نشي او نه دې تیروځي چه زه ئې دوست او خلیل یم. او ټولو خلقو د خیر او شر د ګردو (ټولو) اعمالو په جزا او سزا کښې دي هیڅوک هیڅ یو تردد او اندیښنه ونه کړي!

---

وَيَسْتَفْتُوْنَكَ فِي النِّسَآءِ ۗ قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيْكُمْ فِيْهِنَّ ۙ وَمَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ فِي الْكِتٰبِ فِيْ يَتٰمَى النِّسَآءِ الّٰتِيْ لَا تُؤْتُوْنَهُنَّ مَا كُتِبَ لَهُنَّ وَتَرْغَبُوْنَ اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ

وَالْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الْوِلْدَانِ ۙ وَاَنْ تَقُوْمُوْا لِلْيَتٰمٰى بِالْقِسْطِ ؕ

طلب د فتوی کوی دوی له تانه په باب (د میراث د) ښځو کښی ووایه (ای محمده! دوی ته) چه الله فتوی (حکم) درکوی تاسی ته په (باب د) دوی کښی «او بل د» هغه شی «حکم درکوی» چه لوستلی شی پر تاسی په کتاب (قرآن) کښی په (باب د) یتیمانو ښځو کښی هغه چه نه ورکوئ تاسی دوی ته هغه (میراث) چه فرض کړی شوی دی دوی ته او مینه کوئ تاسی دی کار ته چه نکاح کړئ تاسی دوی او (حکم درکوی الله په حق) د ضعیفانو کښی له وړو هلکانو نه او (بل الله دا حکم درکوی) چه ودریږئ تاسی په حق د یتیمانو کښی په عدل (انصاف) سره (په میراث) او مهر کښی)؛

**تفسیر:** د دی سورت په اول کښی ئی د یتیمانو د حق د اداء کولو تاکید فرمایلی ؤ د یتیمو جونو اولیاء لکه د اکا زوی که پوه شی چه زه د دی پوره حق اداء کولی نشم، نو دی دی خپل ځان ته نه نکاح کوی! بلکه بل چاته دی په نکاح ورکړی! او دی دی د هغی حامی او کومکی (مددګار) شی نو مسلمانان د داسی جونو له نکاح کولو څخه ستانه (واپس) شول، خو له تجربی څخی دا ورمعلومه شوه چه په ځینو ځایونو کښی د جونو په حق کښی هم دا بهتر ؤ چه د خپل «ولی» په نکاح کښی راشی او «ولی» د دی رعایت داسی کوی چه بل څوک ئی نه کوی. نو د دی له امله (وجی) مسلمانانو له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د داسی نکاح اجازه وغوښتله د دی استدعا په نسبت دا آیت نازل شو او دوی ته اجازه ورکړه شوه او وی فرمایل «هغه ممانعت چه پخوا له دی نه شوی ؤ هغه خاص په هغه صورت کښی ؤ چه د دوی حق په پوره دول (طریقه) سره اداء نه کړی او د یتیمانو د حق د اداء کولو تاکید ئی فرمایلی ؤ. او که څوک له یتیم سره د ښه سلوک او ښیګڼی (فائدی) په اراده نکاح تړی، نو اجازه ده».

**(فائده):** په عربو کښی داسی عام دستور ؤ چه ښځی، ووړکی او یتیمان به ئی له ځینو حقوقو څخی بی برخی او محروم ګرځول او دوی ته به ئی میراث نه ورکاوه او ویل به ئی چه میراث د هغه چا حق دی چه له دښمنانو سره وجنګیږی او له یتیمو جونو سره د دوی اولیاؤ نکاح ترله او د دوی په نفقه او مهر او کسوت او نورو کښی ئی کمی کوله او په مالونو کښی به ئی بیځایه تصرفات کول لکه چه د دی سورت په ابتداء کښی د دی خبری د امتناع تاکیدات تیر شول. اوس په دی موقع کښی له څو رکوع څخه د مخه د کومو ارشاداتو سلسله چه جاری ده د هغو خلاصه دا ده د الله تعالیٰ حکم واجب الاتباع دی او د الله تعالیٰ د حکم په مقابل کښی د هیڅچا عقل، فکر، آرزو، دستور، حکم، قیاس بیخی د اعتبار وړ (لائق) او قابل کیدی نشی او د الله جل جلاله د حکم په مقابل کښی د بل چا د خبرو اوریدل او عمل پری کول او د الله تعالیٰ د

حکم پریښودل صریح کفر او ګمراهي ده او دا مضمون ئی په راز راز (قسم قسم) بلیغو تاکیداتو سره ظاهر او ښکاره کړ اوس د همغو پخوانیو آیتونو په حواله د ښځو او د یتیمو جونو د نکاح په متعلق ځینی نوری مسئلی هم راښیی، څو چه له دی تاکیداتو څخه وروسته د ښځو د حقوقو په ورکولو کښی د هیچا هیڅ یوه خبره پاتی نشی. روایت دی کله چه د ښځو د حقوقو په ورکولو کښی د هیچا هیڅ یوه خبره پاتی نشی. روایت دی کله چه د ښځو په نسبت زمونږ پاک رسول صلی الله علیه وسلم د میراث حکم ښکاره کړ نو د عربو ځینی مشران د محمد رسول صلی الله علیه وسلم په حضور کښی حاضر شول او په تعجب سره ئی وویل چه «مونږ آورو چه تاسی د لور او خور او مور او نورو ښځو له پاره د میراث ورکولو حکم صادر کړی دی او حال دا دی چه میراث د هغو میرو (خاوند) حق دی چه له دښمنانو سره جنګیږی او د غنیمت مالونه راوړی.» رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه «بیشکه هم دا د الله تعالیٰ حکم دی چه ښځو لره دی هم میراث ورکړ شی!» او هم د دی ارشاد په لوری اشاره ده چه د ﴿ وَمَنۡ أَحۡسَنُ دِينٗا مِّمَّنۡ أَسۡلَمَ وَجۡهَهُۥ لِلَّهِ ﴾ مصداق حضرات صحابه کرام رضوان الله تعالیٰ علیهم اجمعین دی چه د نکاح، مهر او د نفقی په معاملاتو کښی هم د خپلو تر لاس لاندی کسانو لږ څه حق تلفی نه کوی او د حضرت الٰهی جل جلاله د احکامو په مقابل کښی د خپلو منافعو او اغراضو او شخصی کارونو او قومی رسمونو او د ملی رواجونو له سره پروا نه کوی او هم دوی د الله تعالیٰ د حکم له مخالفته هم ویریږی او ځان تری ژغوری (ساتی) او هر څه چه کوی د هغه اجازه په صاف دول (طریقه) سره آخلی او بیا ئی کوی. والله اعلم.

---

وَمَا تَفۡعَلُواْ مِنۡ خَيۡرٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِهِۦ عَلِيمٗا ﴿١٢٧﴾

---

او هر څه چه کوئ تاسی له خیر (نیکی) پس بیشکه چه الله دی پر هغه ښه عالم (او هغه هم لکه نور اشیاء ورمعلوم دی).

---

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ ته ستاسی یوه یوه ذره نیکی هم معلومه ده نو د یتیمانو او ښځو په حق کښی هره ښیګڼه (ښه کار) چه وکړئ! د هغی ثواب هرومرو (خامخا) مومئ!

---

وَإِنِ ٱمۡرَأَةٌ خَافَتۡ مِنۢ بَعۡلِهَا نُشُوزًا أَوۡ إِعۡرَاضٗا فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِمَآ أَن يُصۡلِحَا بَيۡنَهُمَا صُلۡحٗاۚ وَٱلصُّلۡحُ خَيۡرٞۗ

---

او که کومه ښځه ویریده له میره (خاوند) خپله د سرکشی (د حقوقو په منع او د صحبت په ترک) یا د مخ ګرځولو (له مجلسه او خبرو) پس نشته هیڅ

ګناه پر دغو دواړو په دې کښې چه صلح وکړي دوی پخپلو منځونو کښې یو شان صلح؛ او صلح کول خیر (ډیر غوره) دی؛

**تفسیر:** یعنې که کومه ښځه د خپل میړه (خاوند) زړه له خپله ځانه خپه ووینې. او د هغه د خوښې او متوجه کولو له امله (وجې) له خپل مهر یا نفقې او نورو ځنې لږ څه ورپریږدي او هغه له خپله ځانه خوښ کړي نو په دې مصالحت کښې د هیڅا په ذمه کښې هیڅ ګناه نشته. د زوجینو په منځ کښې مصالحت او موافقت ډیره ښه خبره ده. هو! بې له سببه د ښځو خپه کول او ربړول (تکلیفولو) او بې له رضا د دوی په مال کښې تصرف کول ګناه ده. (ځینو مفسرینو د دې صلحې صورت داسې لیکلی دی ښځه مهر یا نفقه میړه (خاوند) ته ورپریږدي. کلاً یا بعضاً. یا خپل وار خپلې بنې ته خوشې کړي. او میړه (خاوند) دې طلاق نه ورکوي! او ترې شنګ (ډډه) دې هم نه کوي! او خبرې اترې دې ورسره کوي! او شوک وائې چه صلح دا ده چه د کاله واک (اختیار) دې مشرې ته ورکړي! او ناسته ملاسته دې کشرې سره وکړي!. والله اعلم)

## وَأُحْضِرَتِ الْأَنفُسُ الشُّحَّ ط

او حاضر کړی شوې دی نفسونه حرص ته (او د زړونو په منځکښې بخیلي موجوده ده)

**تفسیر:** یعنې د هر چا په زړه کښې د خپل ځان نفع او د مال حرص او بخیلي شته. نو که ښځه نظر کوم مصلحت ته خپل میړه (خاوند) ته کومه نفع ورسوي، نو نارینه ترې خوښیږي، (او که نارینه خپلې ښځې ته کومه نفع ورسوي نو دا ترې خوشالیږي، لیکن د حرص بخیلي، اعراض او بې پروائي له کبله (وجې) میړه (خاوند) ته غاړه نه ږدي، او له خپلو حقوقو لږ څه هم نه ورته تیریږي، او میړه (خاوند) هم د ښځې ښه ساتلو او د دې د لږو حقوقو اداء کولو ته نه تیاریږي.)

## وَإِن تُحْسِنُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿١٢٨﴾

او که نیکي وکړئ تاسې! (له خپلو ښځو سره) او پرهیز وکړئ تاسې (له نشوزه او خصومته) نو بیشکه چه الله دی په هغه شي چه کوئ ئې تاسې (له محبته او خصومته) ښه خبردار (نو ستاسې د عمل سره به سمه جزا درکړي).

**تفسیر:** یعنې که له ښځو سره ښه سلوک وکړئ! او له بدسلوکۍ او جنګونو او جنجالونو ځانونه

وژغورئ! (بچ کړی) نو الله تعالیٰ ستاسی له ګردو (تولو) خبرو څخنی خبردار دی، د نیکی ثواب به هرومرو (خامخا) تاسی ته درکوی. ښکاره ده چه په دی صورت کښی اعراض او خپګان نه پیښیږی. او رضا کولو او له خپل حق څخنی د تیریدلو ضرورت نه پاتی کیږی.

وَلَنْ تَسْتَطِيعُوٓا اَنْ تَعْدِلُوا بَيْنَ النِّسَآءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ فَلَا تَمِيلُوا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوهَا كَالْمُعَلَّقَةِ ۚ

او له سره به طاقت ونه لرئ تاسی (ای د ډیرو ښځو میړونو ـ خاوندانو!) د دی چه عدل وکړئ (او برابر والی وساتئ په هر شی کښی) په مابین د ښځو خپلو کښی اګر که ډیر حرص وکړئ تاسی (عدل ته) نو مخ مه ګرځوی. تاسی (له یوی ښځی) په کامل مخ ګرځولو سره چه پس پریږدئ تاسی دا (ښځه) په شان د ځوړندی شوی؛ چه نه ئی طلاقوئ! او نه د میړانی معامله ورسره کوئ!

**تفسیر:** یعنی که څو ښځی ستاسی په نکاح کښی وی او دغه ستاسی له لاسه نه کیږی چه د زړه مینه، او په هر امر کښی بیخی د مساوات او برابری رعایت له هری یوی سره وکړئ! نو داسی ظلم او تیری هم مه کړئ!، چه بیخی یوه لوری ته وښوئیږئ! او میلان وکړئ! او هغه بله ښځه همغسی په منځ کښی ځوړنده پریږدئ! نه ئی هوسا (خوشاله) او آرامه ساتئ! او نه ئی بیخی جلا (جدا) کوئ چه له بل چا سره خپله نکاح وتړی.

وَاِنْ تُصْلِحُوا وَتَتَّقُوا فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١٢٩﴾

او که اصلاح وکړئ تاسی (له خپلو ښځو سره) او پرهیز وکړئ (له ظلمه) نو بیشکه چه الله دی ښه مغفرت کوونکی (د خطیاتو) ډیر رحم والا (د اجر او ثواب په انعام سره)

**تفسیر:** یعنی که د اصلاح او د مصالحت معامله وکړئ! او حتی المقدور له ظلم، تعدی او حق تلفی څخه خپل ځانونه وژغورئ!، (وساتی) نو الله تعالیٰ ښوونکی دی.

وَإِنْ يَتَفَرَّقَا يُغْنِ اللَّهُ كُلًّا مِّنْ سَعَتِهِ ۚ وَكَانَ اللَّهُ وَاسِعًا حَكِيمًا ﴿١٣٠﴾

او كه سره بيل شول دواړه (زوجين په طلاق سره) نو بې پروا به كاندي الله هر يو له دوى نه له فراخۍ خپلې؛ او دى الله فراخ (رحمت فضل احسان د ده) تدبير والا (چه هر كار له حكمت او مصلحت سره سم كوي).

**تفسير:** يعنې كه زوجين بېلوالى غوره كړي او د طلاق وار ورسيږي، نو هيڅ حرج نشته، الله تعالىٰ د هر يوه كار جوړونكى دى، او د ګردو (تولو) حاجاتو پوره كوونكى دى، په دې كښې دې لورې ته اشاره ده، چه ښځې زوجه په راحت او هوسائۍ (آرام) كښې وساتله شي! او ايذاء او رېړ (تكليف) ورته ونه رسوي! او كه داسې ښه ژوندون ئې له لاسه پوره نه وي، نو بيا ښه ده چه طلاق وركړي. والله اعلم.

وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۗ وَلَقَدْ وَصَّيْنَا الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَإِيَّاكُمْ أَنِ اتَّقُوا اللَّهَ ۚ وَإِنْ تَكْفُرُوا فَإِنَّ لِلَّهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۚ وَكَانَ اللَّهُ غَنِيًّا حَمِيدًا ﴿١٣١﴾ وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ وَكِيلًا ﴿١٣٢﴾

او (خاص) الله لره دى هر هغه شيان چه په آسمانونو كښې دي او هر هغه شيان چه په ځمكه كښې دي (سره د آسمانو او ځمكې ملكاً، خلقاً او عبيداً)؛ او خامخا په تحقيق حكم كړى دى مونږ هغو كسانو ته چه وركړې شوې دي دوى ته كتاب پخوا له تاسې او (هم خاص حكم كړى دى مونږ) تاسې ته د دې چه وويرېږئ! له الله او كه تاسې كافران شئ! نو بېشكه خاص الله لره دى هر هغه شيان چه په آسمانونو كښې دي او هغه شيان چه په ځمكه كښې دي (سره د آسمانو او ځمكې ملكاً، خلقاً او عبيداً) او دى الله غني (ډېر بې پروا له هر چا او هر شي) ښه ستايلې شوى (په ډېرو ښو صفاتو سره). او خاص الله لره دي هغه شيان چه په آسمانونو كښې دي او هغه شيان چه په ځمكه كښې دي (سره له آسمانونو او ځمكې ملكاً، خلقاً او عبيداً)؛ او بس دى الله وكيل (ښه كار جوړوونكى).

**تفسير:** له پاسه د ترغيب او ترهيب د ذکر سلسله جاري وه. يعني د الله تعالیٰ د حکم اطاعت کول او د هغه له مخالفت څخه ځان ژغورل (ساتل) ګردو (تولو) ته ضروري دی او د الله تعالیٰ د احکامو په مقابل کښې د بل چا خبرې ته غوږ کيښودل له سره روا نه دی. په منځ کښې ئې د يتيمانو او ښځو په نسبت څو داسې حکمونه بيان کړل چه خلق پرې اخته وو اوس بيا همغه ترغيب او ترهيب بيانوی. د دې دواړو آيتونو خلاصه دا ده چه تاسې او له تاسې څخه ګردو(تولو) پخوانيو خلقو ته دا حکم آورول شوی دی چه له الله تعالیٰ څخه وويرېږئ! او د ده له احکامو څخه نافرمانی مه کوئ! او ترې غاړه مه غړوئ! نو که اوس څوک د الله جل جلاله حکم نه مني نو الله جل جلاله د ګردو (تولو) شيانو مالک دی او د هيچا پروا نه لری يعنی دی خپل ځان ته نقصان رسوی او پاک الله ته هيڅ يو تاوان نشی رسولی که د الله تعالیٰ احکام ومنئ! نو په دی باور ولرئ! چه الله جل وعلیٰ شانه چه د ګردو (تولو) شيانو مالک دی. ستاسې ګرد (تول) کارونه درجوړوی. درې ځلې ئې وفرمايل هر هغه شيان چه په ګردو (تولو) آسمانونو او ځمکه کښې دی د الله تعالیٰ دی.

له (۱) نه کشائش او وسعت مقصود دی. يعنی د هغه په دربار کښې د هيڅ يو شی کمی نشته.

له (۲) نه د بی نيازی او بی پروايی بيان مقصود دی. يعنی که تاسې منکران يئ، الله (جل جلاله) د هيچا پروا نه لری.

له (۳) نه د رحمت او د کار جوړولو اظهار دی په دی شرط سره چه تاسې پرهيزګاران او متقيان اوسئ!

---

إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ أَيُّهَا النَّاسُ وَيَأْتِ بِـَٔاخَرِينَ ۚ وَكَانَ اللَّهُ عَلَىٰ ذَٰلِكَ قَدِيرًا ﴿١٣٣﴾

---

که اراده وفرمايی (الله د بيولو او مړه کولو ستاسې) نو بوبه ځی تاسې (په موت سره) ای خلقو! او رابه ولی نور خلق (په پيدا کولو سره)؛ او دی الله پر دغه (اعدام او ايجاد هم) ښه قادر (او پوره قدرت لری).

---

**تفسير:** يعنی الله تعالیٰ پر دی باندی هم قادر دی چه تاسې ګرد (تول) سره فناء کړی او د دنيا له مخی څخه مو لری کړی او ستاسې په ځای نور مطيعان او حکم منونکی خلق پيدا کړی. له دی ځنی هم د الله تعالیٰ د بی پروايی او د استغناء اظهار ډير ښه راڅرګنديږی او غاړه غړوونکو ته هم پوره تهديد او تخويف وشو.

مَنْ كَانَ يُرِيْدُ ثَوَابَ الدُّنْيَا فَعِنْدَ اللّٰهِ ثَوَابُ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۭ

هر څوک چه وی چه وغواړی ثواب (بدل) د دی دنيا نو دی په نزد د الله ثواب (بدل) د دنيا او (ثواب) د آخرت؛

**تفسير:** يعني که تاسی د الله تعالیٰ د احکامو متابعت وکړئ!. نو تاسی ته د دنيا او آخرت د دواړو ثوابونه او اجرونه درکول کيږی نو بيا يواځی په دنيا پسی ګرځيدل او د الله تعالیٰ د احکامو د نه منلو په اثر له آخرت (بلکه له دنيا) څخه هم ځان محروم او بی برخی ګرځول لويه نادانی ده.

وَكَانَ اللّٰهُ سَمِيْعًا بَصِيْرًا ﴿١٣٤﴾

او دی الله ښه اوريدونکی (د ټولو اقوالو) ښه ليدونکی (عالم په پټو او ښکاره ؤ)

**تفسير:** يعني الله تعالیٰ ستاسی ګرد (ټول) کارونه وينی او ستاسی ګردی (ټولی) خبری اوری هر شی چه غواړئ که اراده وفرمايی نو همغه به درکوی.

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُوْنُوْا قَوّٰمِيْنَ بِالْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلّٰهِ وَلَوْ عَلٰۤى اَنْفُسِكُمْ اَوِ الْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ ۚ

ای هغو کسانو چه ايمان ئی راوړی دی (ای مؤمنانو!) اوسئ تاسی تل محکم ولاړ! په انصاف سره شاهدان (خاص) دپاره د الله اګر که وی (دا شاهدی) پر نفسونو ستاسی (چه زيان مو وی پکښی) يا «په» والدينو (مور او پلار ستاسی) يا «په» اقاربو (خپلوانو ستاسی)،

**تفسير:** يعني ښايی چه په رښتيا او د الله تعالیٰ له حکم سره سمه شاهدی ورکړئ! اګر که په دی حقه شاهدی کښی ستاسی يا ستاسی د کوم عزيز او قريب خپلوان زيان هم وی هره هغه خبره چه رښتيا وی ښايی چه په ښکاره ډول (طريقه) سره اظهار کړه شی! او د دنيوی نفعی له پاره

اخروی نقصان وانخلئ!

إِن يَكُنْ غَنِيًّا أَوْ فَقِيرًا فَاللَّهُ أَوْلَىٰ بِهِمَا ۖ فَلَا تَتَّبِعُوا الْهَوَىٰ أَن تَعْدِلُوا ۚ

که وی دغه (مشهود علیه او مشهود له) غنی (شتمن) له فقیر «محتاج» نو الله ډیر خیر غوښتونکی دی پر دوی (له تاسی نه)؛ نو مه کوئ تاسی متابعت د هوا (د نفسانی خواهشونو) کله چه انصاف کوئ تاسی، (او له حقه مه تیریږئ! یا چه عدول وکړئ له حقه)

**تفسیر:** یعنی په رښتیا شاهدی کښی د خپلی کومی نفسانی غوښتنی متابعت ونه کړئ! چه د شتمنو رعایت وکړئ! او پر محتاجو باندی ورحمیږئ! او حقه خبره پته کړئ! هر هغه شی چه حق وی همغه ووایئ الله تعالیٰ له تاسی څخنی زیات د هغوی د خیر او ښیګڼی (فایدی) اراده لری او د دوی په مصالحو باندی ښه پوه او خبردار دی او د ده په دربار کښی د هیڅ شی کمی نشته.

وَإِن تَلْوُوا أَوْ تُعْرِضُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿١٣٥﴾

که واړوئ تاسی (خپلی ژبی) یا څنګ وکړئ تاسی (له شاهدی نه) نو بیشکه الله دی پر هر هغه شی چه کوئ (یی) تاسی ښه خبردار (نو سم د عمل سره به سمه جزا درکړی).

**تفسیر:** د ژبی اړول دا دی چه رښتیا خبره ووایی مګر خو په ژولی ژبه سره او په پیچلو او تاو کړیو الفاظو چه د هغو له اوریدلو څخنی اوریدونکی په شبهه کښی لویږی یعنی صافه صافه او رښتیا خبره نه وایی او ځان تری ژغورل (بچ کول) او په څنګ (ډډه) کیدل دا دی چه پوره خبره ونه وایی بلکه هغه خبری چه په کار راځی هغه پریږدی. نو په دی دواړو صورتونو کښی ئی اګر که دروغ نه دی ویلی، مګر د حق د نه ښکاره کولو له امله (وجی) ګنهګاریږی او ښائی چه هرومرو (خامخا) شاهدی پوره او په رښتیا او ښکاره الفاظو ورکړه شی! (یا دا چه د شهادت له اداء څخه مخ واړوئ!، او پټ ئی کړئ!).

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَالْكِتٰبِ الَّذِيْ نَزَّلَ عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَالْكِتٰبِ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ مِنْ قَبْلُ ؕ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًاۢ بَعِيْدًا ﴿۱۳۶﴾

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (ای مؤمنانو!) ثابت او خالص کړئ تاسي ایمان (یقین) خپل پر الله او رسول د ده (محمد) او په هغه کتاب (قرآن) چه توته توته ئی نازل کړی دی پر رسول خپل (محمد) باندی او پر هغه کتاب چه تول ئی یو ځل نازل کړی دی پخوا (له قرآنه پر نورو رسولانو) او هر څوک چه کافر شی پر الله او پر ملائکو (پرښتو) د دغه (الله) او پر کتابونو د دغه «الله» او پر رسولانو د دغه «الله» او پر ورځی آخری (چه قیامت دی) نو په تحقیق گمراه شوی دی په گمراهی لری سره (له حقه).

**تفسیر:** یعنی هر څوک چه ایمان راوړی نو ضرور دی چه د الله تعالیٰ پر گردو (تولو) احکامو او ارشاداتو د زړه یقین ولری که د الله تعالیٰ له احکامو او ارشاداتو ځني پر یوه حکم هم یقین ونه کړی، نو هغه مسلمان نه دی. او تش د ژبی وینا او د خولی اظهار هیڅ کوم اعتبار نه لری.

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا ثُمَّ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا ثُمَّ ازْدَادُوْا كُفْرًا لَّمْ يَكُنِ اللّٰهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيْلًا ؕ ﴿۱۳۷﴾

بیشکه هغه کسان (یعنی یهودان) چه ایمان ئی راوړی دی (په موسیٰ) بیا کافران شوی دی (په عبادت د خسي سره) بیا ئی ایمان راوړی دی (په توبه ایستلو سره) بیا کافران شوی دی (په انجیل او عیسیٰ باندی) بیا زیات شوی دی له جهته د کفره (په محمد باندی) نه دی الله چه مغفرت وکړی دوی ته او نه چه وښیی دوی ته سمه صافه لاره (څو چه دوی په خپل کفر کښی دوام لری).

**تفسیر:** یعنی په ظاهر کښی مسلمانان او په زړه کښی مذبذب پاتی وو. او په آخر کښی بی له یقین کولو مړه شول نو دوی ته د نجات لاره نه مونده کیږی دوی کافران دی او ظاهری

مسلمانی ئی هیڅ په کار نه ورځی له دی نه منافقین مراد دی او ځینی وایی چه دا آیت د یهودانو په باره کښی نازل شوی دی چه ړومبی ئی ایمان راوړ بیا د خسی په عبادت کولو سره کافران شول بیا ئی توبه وکړه او مؤمنان شول بیا له عیسیٰ علیه السلام څخه منکران او پری کافران شول وروسته له دی د محمد رسول الله (صلی الله علیه وعلی آله واصحابه وسلم) له رسالته ئی هم انکار وکړ او په کفر کښی ئی لا پسی ترقی وکړه.

بَشِّرِ الْمُنٰفِقِيْنَ بِاَنَّ لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿١٣٨﴾ الَّذِيْنَ يَتَّخِذُوْنَ الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۭ اَيَبْتَغُوْنَ عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ فَاِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا ﴿١٣٩﴾

زیری ورکړه (ای محمده!) منافقانو ته په دی چه بیشکه شته دوی ته عذاب دردناک هغه کسان چه نیسی دوی کافران دوستان (خپل) بی له مؤمنانو؛ آیا لټوی دا (منافقان) په نزد د دی (کفارو) عزت پس بیشکه (دنیوی او اخروی) عزت خاص الله لره دی ټول.

**تفسیر:** یعنی منافقان چه له مسلمانانو څخنی جلا (جدا) کیږی او که کافرانو سره دوستی کوی د هغوی له پاره سخت عذاب دی. د منافقانو دغه خیال چه «مونږ ته د کفارو د ناستی او ولاړی له امله (وجی) دنیوی عزت رسیږی» بیخی غلط دی. ځکه چه ګرد (ټول) عزتونه د الله تعالیٰ له خوا دی هر څوک ئی چه اطاعت کوی د ده په برخه عزت رسیږی. خلاصه ئی داسی شوه چه داسی خلق به په دنیا او آخرت دواړو کښی خوار او ذلیل اوسی.

وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِى الْكِتٰبِ اَنْ اِذَا سَمِعْتُمْ اٰيٰتِ اللّٰهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَاُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوْا مَعَهُمْ حَتّٰى يَخُوْضُوْا فِىْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖٓ ۡ اِنَّكُمْ اِذًا مِّثْلُهُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ جَامِعُ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْكٰفِرِيْنَ فِىْ جَهَنَّمَ جَمِيْعًا ﴿١٤٠﴾

او په تحقیق (پخوا) نازل کړی دی (الله) پر تاسی په کتاب (قرآن) کښې دا «حکم هر کله چه واوریدل تاسی (په یوه مجلس کښې) آیاتونه د الله چه کفر (او انکار) کولی شی په دی آیتونو او مسخری کولی شی په هغو پوری نو مه کینئ تاسی له دوی سره (ای مؤمنانو)! تر هغه پوری چه مشغول شی دوی په خبره بله کښې (که نه) په تحقیق تاسی به (هم) په دی وخت کښې د هغو په شان شئ! (په گناه کښې) بیشکه چه الله یو ځای کوونکی دی د منافقانو او د کافرانو په جهنم (دوزخ) کښې د تولو (په یو ځای کښې).

**تفسیر:** یعنی ای مسلمانانو! الله تعالیٰ پخوا له دی نه په قرآن عظیم الشان کښې تاسی باندی داسی حکم نازل کړی دی؛ «په هر هغه مجلس کښې چه د الله تعالیٰ پر احکامو تمسخر او له هغو څخه انکار کیږی هلته له سره مه کینئ که نه تاسی هم همغسی گڼل کیږئ. هو! که هغوی په نورو خبرو که مشغول دی نو په هغه وخت کښې له هغوی سره د کیناستلو هیڅ ممانعت نشته.» د منافقانو په مجلسونو او مرکو کښې د الله تعالیٰ له احکامو او آیتونو څخه انکار او ورباندی تمسخر کیده نو په دی مناسبت دا آیت نازل شو او دا چه ئی وفرمایل حکم نازل شوی دی پر تاسی باندی دی آیت ته اشاره ده ﴿ وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ ﴾ الآیة ـ چه پخوا له دی نه نازل شوی ؤ.

**(فائده):** له دی نه معلومه شوه هر هغه څوک چه په مجلس کښې په خپل دین باندی طعن او عیب آوری او بیا هلته کینی او آوری ئی اگر که هغه په خپله څه ونه وایی «منافق» دی.

الَّذِينَ يَتَرَبَّصُونَ بِكُمْ فَإِن كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ مِّنَ اللَّهِ قَالُوا أَلَمْ نَكُن مَّعَكُمْ وَإِن كَانَ لِلْكَافِرِينَ نَصِيبٌ قَالُوا أَلَمْ نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ وَنَمْنَعْكُم مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ

هغه منافقان چه همیشه منتظر دی (حوادثو) ستاسی ته، نو که ؤ تاسی ته بری له (لوری) د الله نو وایی دا (منافقان مسلمانانو ته) چه آیا نه وو مونږ له تاسی سره؟ او که وه کافرانو ته برخه (د بری) نو وایی دا (منافقان کفارو ته) چه آیا غالب شوی نه وو مونږ پر تاسی او (آیا) ومو نه ژغورلئ (بچ مو نه کړی) تاسی له مؤمنانو څخنی؟

**تفسیر:** یعنی دا منافقان هغه کسان دی چه پرله پسی ستاسی د کمی په انتظار کښې دی. بیا

که بری (فتح) ستاسی په برخه شوه نو تاسی ته وایی « آیا مونږ له تاسی سره نه وو؟ (بلکه وو) د ولجی(غنیمت) په مال کښې مونږ هم له خپلو ځانونو سره شریک کړئ!» او که کافرانو ته په جنګ کښې څه شی په لاس ورشی یعنی کفار غالب شی نو هغوی ته وایی « آیا مونږ تاسی باندی غلبه نه وه کړی؟ یعنی پر تاسی باندی غالب او په دی قادر وو چه تاسی قتل کړو خو مونږ له تاسی ځنی لاس واخیست نو آیا مونږ ستاسی حفاظت نه دی کړی؟ آیا مونږ تاسی د مسلمانانو له ضرره نه وی ژغورلی (بچ کړی)؟ نو په ؤلجه (غنیمت) کښې مونږ ته هم برخه راکړئ!»

**(فائده):** له دی ځنی معلومه شوه که څوک سره له دی چه په حقانی دین کښې هم وی او له ګمراهانو سره پټی خبری او ځان ته جوړښت لری نو دا وضعیت ئی هم د «نفاق» خبره ده.

فَاللّٰهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۗ وَلَنْ يَّجْعَلَ اللّٰهُ لِلْكٰفِرِيْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ سَبِيْلًا ﴿١٤١﴾

نو الله به فیصله وکړی په منځ ستاسی کښې په ورځې د قیامت کښې؛ او له سره به ونه ګرځوی الله دپاره د کافرانو پر مؤمنانو باندی هیڅ لاره (د حجت او د بری).

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ ستاسی او د دوی په منځ کښې حکم او فیصله کوی چه تاسی جنت ته بیایی او دوی په دوزخ کښې اچوی. په دنیا کښې هر څه چه د دوی له لاسه کیږی هغه دی وکړی! خو نتیجې به ئی وګوری. مګر سره له هغه دوی د مؤمنانو هیڅ شی نشی خرابولی او نه ئی له منځه لری کولی شی! چه هم دغه (مسلمانانو ته ضررونه) د دوی د زړه آرزو او تمنا ده.

إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ وَهُوَ خَادِعُهُمْ ۚ

بیشکه چه منافقان تګی کوی (په اظهار د اسلام او اخفاء د کفر) له الله سره او الله سزا ورکوونکی دی د دوی (د دوی د تګی په سبب).

**تفسیر:** یعنی په زړه کښې کافر او په ښکاره مسلمان دی. څو د دواړو خواؤ له ضرر او ایذاء څخه محفوظ پاتی وی او له دواړو خواؤ ګټی او فائدی واخلی؛ (حق سبحانه وتعالیٰ) د دوی د دی غولونی او تګی دا سزا ورکړه چه د هغوی ګرد (ټول) شرارتونه او پټ خباثت ئی خپل پاک نبی صلی الله علیه وسلم ته ښکاره کړ. او دوی ئی داسی ذلیل او خوار کړل چه بیخی له کاره ووتل. او د هیڅ اعتبار وړ (لایق) نه شول. او ګرد (ټول) چلونه او فریبونه ئی مسلمانانو ته

ښکاره شول او هغه سزا چه دوی ته به آخرت کښې وررسیږی هغه ئې هم را څرګنده کړه، لکه چه په راتلونکو آیتونو کښې ئې ذکر راځی خلاصه ئې دا چه د دوی له دغې تګې ځنې هیڅ ونشو او د الله تعالیٰ له لوری دوی په داسې یوه مغالطه کښې ولویدل چه دنیا او آخرت دواړه د دوی له لاسه لاړل.

---

وَإِذَا قَامُوٓا۟ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ قَامُوا۟ كُسَالَىٰ يُرَآءُونَ ٱلنَّاسَ وَلَا يَذْكُرُونَ ٱللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٤٢﴾

---

او هر کله چه پاڅیږی دغه (منافقان) لمانځه ته نو پاڅیږی سست کاهلان ښیی دوی خلقو ته (ځان خپل چه مونږ هم مسلمانان یو) او نه یادوی دوی الله مګر (ریایی یادول) لږ.

---

تفسیر: یعنې لمونځ چه نهایت ضروری او خالص عبادت دی او د هغه په اداء کولو کښې هیڅ یو قسم ځانی او مالی ضرر او اندیښنه هم نشته منافقان له هغه څخه هم ځانونه باسی او که کله ئې له مجبوریته کوی هغه هم تش د ریا او د نورو د ښوولو او تیرایستلو له پاره ئې کوی، څو نور د دوی له کفر ځنې خبر نشی او مسلمانان وګڼل شی. نو بیا له داسې خلقو ځنې د څه خبرې توقع کیدی شی او دوی څرنګه مسلمانان کیدی شی؟

---

مُّذَبْذَبِينَ بَيْنَ ذَٰلِكَ لَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ وَلَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ ۚ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ سَبِيلًا ﴿١٤٣﴾

---

په دی حال کښې چه دوی متحیران مترددان دی په منځ د دغه (ایمان او کفر) نه (بیخی) په طرف د دغو (مؤمنانو دی په باطن کښې) او نه بیخی په طرف د هغو (کفارو) دی (په ظاهر کښې)؛ او هر څوک چه ګمراه (ئې) کړی الله نو له سره به نه مومې ته ده ته لاره (د حق).

---

تفسیر: یعنې منافقان خو بیخی په تردد او حیرت کښې دی نه دوی په اسلام باندی اطمینان لری او نه په کفر داده دی او په سخته پریشانی کښې مبتلا دی. کله یوه لوری ته تمائل کوی او کله بل لوری ته خپل میلان ښکاروی. او الله تعالیٰ چه د هر چا د ګمراهی او پریشانی اراده

وفرمايي نو هغه به د نجات لاره چيرى ومومى؟

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ ۚ أَتُرِيدُونَ أَن تَجْعَلُوا لِلَّهِ عَلَيْكُمْ سُلْطَانًا مُّبِينًا ﴿١٤٤﴾ إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ وَلَن تَجِدَ لَهُمْ نَصِيرًا ﴿١٤٥﴾

اى هغو كسانو چه ايمان ئى راوړى دى (يعني اى مؤمنانو!) مه نيسئ! تاسى كافران دوستان (خپل) بى له مؤمنانو څخنى؛ آيا اراده لرئ تاسى (اى مؤمنانو!) د دى چه پيدا كړئ الله لره پر تاسى برهان (حجت صريح الزام) ښكاره. بيشكه منافقان دى په طبقه ډيره ښكته كښى له اوره (د دوزخ) او له سره به نه مومى ته دوى ته مدد گار (له عذابه خلاصوونكى).

**تفسير:** يعني له مسلمانانو څخنى جلا (جدا) كيدل، او له كفارو سره دوستي او يو ځاى كيدل، د نفاق دليل دى. لكه چه منافقان ئى كوى، نو تاسى لره اى مسلمانانو! داسى كار بيخى نه ښائى! كه نه د پاك الله صريح الزام، ښكاره برهان او پوره حجت به په تاسى باندى قائم شى چه تاسى هم منافقان يئ! او د منافقانو له پاره د دوزخ ډيره ښكته طبقه مقرره ده او هيڅوک له دوى سره مرسته (مدد) او مددگارى نشى كولى، چه دوى له هغى طبقى څخنى وكاږى، يا ئى په عذاب كښى څه تخفيف راولى مسلمانانو لره ښائى چه له داسى خبرى څخنى بيخى لرى وگرځى.

إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا وَأَصْلَحُوا وَاعْتَصَمُوا بِاللَّهِ وَأَخْلَصُوا دِينَهُمْ لِلَّهِ فَأُولَٰئِكَ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ ۖ وَسَوْفَ يُؤْتِ اللَّهُ الْمُؤْمِنِينَ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿١٤٦﴾

مگر هغه كسان چه توبه وباسي (له نفاقه) او اصلاح كړى (اعمال خپل) او منگلى خښى كړى په (دين د) الله او خالص كړى دين خپل (له ريا او ښودنى) خاص الله لره نو دغه (تائبين، مصلحين، معتصمين، مخلصين) به وى سره له مؤمنانو (په دارينو كښى) او ژر به وركړى الله (تولو) مؤمنانو ته (په دنيا او په عقبٰى كښى) ثواب ډير لوى.

**تفسير:** يعني هغه منافق چه له خپله نفاقه توبه او خپل اعمال ښه کړی. او د الله تعالیٰ غوره دين ښه مضبوط او کلک ونيسي. او پر پاک الله توکل وکړی او له ريا او له نورو خرابيو څخني خپل دين پاک او صاف وساتی نو هغه خالص مسلمان دی او په دين او دنيا کښې به له نورو مؤمنانو سره وی، مخصوصاً ايمان لرونکو لره ډير لوی ثواب رسيدونکی دی، او هغه منافقانو ته به هم له هغو حقيقی مؤمنانو سره ثواب رسيدونکی وی چه له نفاقه ئی په رښتيا توبه ايستلی وی.

مَا يَفْعَلُ اللّٰهُ بِعَذَابِكُمْ إِنْ شَكَرْتُمْ وَاٰمَنْتُمْ ۚ وَكَانَ اللّٰهُ شَاكِرًا عَلِيمًا ﴿١٤٧﴾

څه به کوی الله په عذاب ستاسی (او ولی به عذاب درکوی تاسی ته؟) که شکر وباسئ تاسي او ايمان يقين ولرئ تاسی او دی الله شکر قبلوونکی ښه عالم (پر ګردو (تولو) شيانو).

**تفسير:** يعني الله تعالیٰ د ښو کارونو قدر کوی او د بندګانو پر ګردو (تولو) کارونو او خبرو باندی ښه عالم دی، نو هر هغه څوک چه د الله جل جلاله حکم ته په امتنان او شکر ايستلو سره غاړه ږدی، او هغه باندی له زړه يقين لری نو الله تعالیٰ عادل او رحيم دی، او داسی خلق له سره نه په عذابوی او د داسی کسانو تعلق او ارتباط له عذابه سره بيخی نه وی. بيشکه الله تعالیٰ سرکښان او غاړه غړوونکی په خپل عذاب اخته کوی.

**«اللهم انانشکرک ونؤمن بک فقنا العذاب وارزقنا الثواب وکان الله شاکراً عليما»**

لَا يُحِبُّ اللّٰهُ الْجَهْرَ بِالسُّوٓءِ مِنَ الْقَوْلِ اِلَّا مَنْ ظُلِمَ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ سَمِيْعًا عَلِيْمًا ﴿١٤٨﴾

نه خوښوی الله ښکاره ویل د بدی خبری (لکه چه نه خوښوی پټ ویل د دی بدو هم) مګر (ښکاره ویل) له هغه چا چه ظلم پری شوی وی ، او دی الله ښه اوریدونکی (د ګردو(تولو) اقوالو) ښه عالم (په پټو او ښکاره ؤ)

**تفسیر:** یعنی که په چا کښی کوم دینی یا دنیوی عیب وی، نو نه ښائی چه هغه مشهور کړ شی. الله تعالیٰ د ګردو (تولو) خبری اوری او پر تولو کارونو باندی پوهیږی او هر یوه ته سم له هغه سره جزا ورکوی داسی بد ویلو ته «غیبت» ویل کیږی هو! مظلوم لره اجازه ده، چه د ظالم ظلم خلقو ته بیان کړی. هم دا رنګه په ځینو نورو صورتونو کښی هم «غیبت» روا دی. او ښایی دا حکم یئ دلته د دی له پاره فرمایلی وی. چه مسلمانانو ته نه دی لازم چه د کوم «منافق» نوم مشهور او په ښکاره ډول (طریقه) ئی بدنام کړی، چه په دی تور ونه خوری، او لا سرکښه ، بیباکه او بی‌پروا نه شی. بلکه مبهم نصیحت دی وکړ شی. «منافق» به په خپله وپوهیږی. یا دی ځانته په ګوښه (تنهایئ) کښی نصیحت ورته وکړی په دی سره ممکن دی چه هدایت ومومی او پند واخلی لکه چه رسول اعظم صلی الله علیه وسلم هم داسی کول او د هیچا نوم به ئ نه مشهوراوه .

اِنْ تُبْدُوْا خَيْرًا اَوْ تُخْفُوْهُ اَوْ تَعْفُوْا عَنْ سُوٓءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيْرًا ﴿١٤٩﴾

که ښکاره کوئ تاسی خیر (نیکی ـ طاعت) یا پټوئ دغه (خیر) یا عفوه کوئ ! له بدی ـ (چه ظلم دی) نو بیشکه الله (هم) دی ښه عفوه کوونکی (د ګنهګارانو سره له قوت او قدرته) ښه قادر (په عذاب د ظالم او ثواب د مظلوم او نورو)

**تفسیر:** په دی آیت کښی مظلوم ته د معافولو ترغیب ورکول منظور دی چه الله تعالیٰ سره له قدرت او زبردستی د خطا کوونکو خطاګانی ورمعافوی نو عاجز او لاس‌لاندی بنده ته په اولیٰ طریقه سره ښایی چه د نورو قصور ورمعاف کړی (او په دغه ربانیهٔ صفاتو سره خپل ځان

موصوف کړی چه د هغو صفاتو د خواصو د فیضان لائق شی) خلاصه ئی دا ده مظلوم ته جائز دی چه له ظالم څخه خپل بدل واخلی! مگر افضل خو دا دی چه صبر وکړی! او ور څخنی تیر شی! په دغه آیت کښی دی لوری ته اشاره ده که د منافقانو اصلاح غواړئ نو د دوی پر ایذاء او ضرر رسولو صبر وکړئ! او په پسته ژبه او په پته سره دوی وپوهوئ ! له ښکاره طعن او لعن او بد ویلو څخه خپل ځانونه وساتی او په ښکاره ډول (طریقه) هغوی سره مخالفت مه کوی!

---

إِنَّ الَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ وَيُرِيدُونَ أَنْ يُفَرِّقُوا بَيْنَ اللَّهِ وَرُسُلِهِ وَيَقُولُونَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَنَكْفُرُ بِبَعْضٍ وَيُرِيدُونَ أَنْ يَتَّخِذُوا بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا ﴿١٥٠﴾ أُولَٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ حَقًّا ۚ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا مُهِينًا ﴿١٥١﴾

---

بیشکه هغه کسان چه کافران (منکران) کیږی پر الله او پر رسولانو د الله او اراده لری (غواړی) دوی چه تفریق (بیلتون) وکړی په منځ د الله او رسولانو د الله او وایی دوی چه مونږ ایمان راوړو پر ځینو او کافران (منکران) کیږو پر ځینو (نورو رسولانو) او اراده لری (غواړی) دوی چه ونیسی په منځ د دی (کفر او اسلام کښی) یوه لاره دغه (تفریق کوونکی) هم دوی کافران دی (په کمال د کفر او) په حقه سره، او تیار کړی دی مونږ له پاره د کافرانو عذاب ډیر سپکوونکی (د دوزخ)

---

**تفسیر:** له دی ځایه د یهودانو ذکر دی. څرنګه چه په یهودانو کښی (نفاق ډیر ؤ او د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په زمانه کښی چه منافقان عموماً یهودان وو یا ئی له یهودانو سره رابطه او محبت درلود (لرلو) او د یهودانو پر مشورو باندی ئی کار کاوه نو ځکه ئی په پاک قرآن کښی زیاتره د دی دواړو ډلو ذکر یو ځای فرمائیلی دی. د دی آیت خلاصه دا ده «هغه کسان چه له الله جل جلاله او د ده له رسولانو منکران دی او غواړی چه د الله تعالیٰ او د ده د رسولانو په مینځ کښی فرق وکړی یعنی پر الله باندی ایمان راوړی او پر رسولانو ئی ایمان را نه وړی او ځینی رسولان ئی ومنی او ځینی ئی ونه منی د هغوی مطلب دا دی چه د اسلام او د کفر په مینځ کښی یو نوی مذهب د خپلو ځانونو له پاره جوړ کړی هم دغه کسان اصلی او پاخه کافران دی د دوی له پاره د خواری او د ذلت عذاب تیار دی.

**(فائده)** د الله تعالیٰ منل هلته معتبر دی چه د خپلی زمانی د نبی علیه السلام تصدیق هم وکړی

او د هغه حکم هم ومني. بې د نبي عليه السلام له تصديقه د الله تعالیٰ منل بې فائدې دي. او څه اعتبار نه لري بلکه د یوه نبي علیه السلام تکذیب د الله تعالیٰ او د ګردو (ټولو) انبیاؤ علیهم السلام تکذیب ګڼل کیږي. کله چه یهودانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم تکذیب وکړو نو د الله تعالیٰ او د ګردو (ټولو) انبیاؤ علیهم السلام په تکذیب کوونکو کښې ګډ او ډیر سخت کافران وګڼل شول.

وَالَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ وَلَمْ يُفَرِّقُوا بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ أُولَٰئِكَ سَوْفَ يُؤْتِيهِمْ أُجُورَهُمْ ۗ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١٥٢﴾

او هغه کسان چه ایمان ئې راوړی دی پر الله او پر (ټولو) رسولانو د (الله) او نه دي کړې دوی تفریق (بیلتون) په مینځ د هیڅ یوه کښې له دوی نه (په نه منلو سره) دغه (مؤمنان په ټولو مؤمن به شیانو) ژر به ورکړي (الله) دوی ته اجرونه (ثوابونه) د دوی او دی الله ښه مغفرت کوونکی (د خطیاتو) ډیر رحم والا (د اجر او ثواب پر انعام سره)

**تفسير:** یعني هغه کسان چه په منځ د هیڅ یو له انبیاؤ علیهم السلام کښې ئې جلا (جدا) والی ونه کړ بلکه په الله جل جلاله او د ده پر ګردو (ټولو) رسولانو علیهم السلام باندې ئې ایمان راوړ نو الله تعالیٰ به خپل فضل او مرحمت سره دوی ګردو (ټولو) ته لوی ثواب ورکوي له دې ځنې هغه مسلمانان مراد دي چه پر الله تعالیٰ او پر محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم او پر نورو ټولو رسولانو علیهم السلام او نورو ګردو (ټولو) مؤمن به شیانو باندې ئې ایمان راوړی دی.

يَسْأَلُكَ أَهْلُ الْكِتَابِ أَن تُنَزِّلَ عَلَيْهِمْ كِتَابًا مِّنَ السَّمَاءِ ۚ فَقَدْ سَأَلُوا مُوسَىٰ أَكْبَرَ مِن ذَٰلِكَ فَقَالُوا أَرِنَا اللَّهَ جَهْرَةً فَأَخَذَتْهُمُ الصَّاعِقَةُ بِظُلْمِهِمْ ۚ ثُمَّ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ مِن بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَاتُ فَعَفَوْنَا عَن ذَٰلِكَ ۚ

سوال کوي له تانه (ای محمده!) اهل د کتاب (یهودان) د دې چه نازل کړې

ته پر دوی (لکه تورات یو لیکلی) کتاب له آسمانه نو په تحقیق سوال کړی وو دوی (یعنی پلرونو د دغو یهودانو) له موسیٰ څخه ډیر لوی له دغه (سواله) پس ویلی وو دوی (موسیٰ ته) چه وښیه مونږ ته الله ښکاره (مخامخ) نو ونیول دوی صاعقه (تندر) په سبب د ظلم د دوی (چه د الله د لقاء سوال ؤ په دنیا کښی) بیا ونیوه دوی خسی (په خدائی سره) پس له هغه چه راغلی دوی ته ښکاره معجزی (په توحید) پس عفوه وکړه (تیر شو) مونږ له دی گناه (د دوی په توبه کولو سره)

**تفسیر:** د یهودانو څو مشران د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښی حاضر شول او ویی ویل «که ته په رښتیا سره رسول ئی نو یو لیکلی شوی کتاب یو ځلی له آسمانه راوړه ! لکه چه حضرت موسیٰ علیه السلام تورات راوړی ؤ» نو پر دغی ، خبری دا آیت نازل شو ، او د دی رکوع گرد (تول) الزامات د دوی په ځواب کښی ذکر کیږی او وروسته له هغه تحقیقی ځواب ورکوی، د آیت مطلب دا دی ای محمده! صلی الله علیه وسلم یهودان چه له تا ځنی عناداً د هسی کتاب مطالبه کوی، د دوی داسی بیباکی او سرکښی د تعجب خبره نه ده، د دوی پلرونو له دی ځنی هم لویه او سخته غوښتنه له خپل نبی موسیٰ علیه السلام ځنی کړی وه چه مونږ ته الله تعالیٰ په ښکاره ډول (طریقه) سره راوښیه! که نه مونږ ستا خبره نه منو لکه چه په اول جزء د البقرة د سورت په (٥٥)آیت ٦ رکوع کښی تیر شو، نو ځکه پر داسی ویونکو باندی تکه ولویده . او گرد (تول) سره مړه شول ، بیا الله تعالیٰ د موسیٰ «علیه السلام» په دعا سره دوی ژوندی کړل ، د دومره عظیم‌الشانو معجزو له لیدلو سره بیا د خسی په عبادت کښی مشغول شول بیا الله تعالیٰ دوی وبښل دا واقعه د البقرة په سورت کښی لږ څه په تفصیل سره ذکر شوی ده .

وَءَاتَيۡنَا مُوسَىٰ سُلۡطَٰنٗا مُّبِينٗا ﴿١٥٣﴾

او ورکړی وه مونږ موسیٰ ته غلبه صریحه (برهان ښکاره) (چه د موسیٰ په حکم اویا زره تنو د خسی عبادت کونکو په یوه ځاښت کښی خپل ځانونه طوعاً ووژل)

**تفسیر:** له ښکاره غلبی څخه مراد دا دی چه حضرت موسیٰ علیه السلام خسی ذبح کړ او په اور کښی ئی وسوځاوه او ایره ئی د سیند په هوا کښی وغورځوله او (٧٠٠٠٠) له هغو کسانو څخه (چه د خسی په عبادت کښی مشغول شوی وو) ووژل شول.

وَرَفَعۡنَا فَوۡقَهُمُ ٱلطُّورَ بِمِيثَٰقِهِمۡ

او پورته کړی ؤ مونږ برسیره پر دوی (غر د) طور دپاره د (قبول د کلکی) وعدی د دوی (چه د موسوی شریعت په منلو سره ئی کړی وه)

**تفسیر:** یعنی هر کله چه یهودانو وویل چه د «تورات» حکم سخت دی. مونږ ئی نه منو نو دلته د «طور» غر له ځمکی څخه ورپورته. او د دوی پر سرونو باندی ځوړند شو (چه له خپله عهده سره سم) د «تورات» احکام ومنی ! او مضبوط او کلک ئی ونیسی! که نه دا غر ستاسی په سر لویږی.

وَقُلۡنَا لَهُمُ ٱدۡخُلُواْ ٱلۡبَابَ سُجَّدٗا

او ویلی وو مونږ دوی ته چه ننوځی! په وره (د ایلیا د ښار) سجده کوونکی

**تفسیر:** په یهودانو باندی حکم وشو چه په سجده کولو سره ښار ته ننوځی او د ننوتلو په وخت کښی مو سرونه راښکته کړئ! دوی د سجدی کولو په ځای په خپلو کناتیو وښوریدل او وښوئیدل ، نو کله چه ښار ته ورسیدل ، پر دوی باندی وبا او طاعون گډ شو ، او تر غرمی پوری د دوی په منځ کښی اویا زره کسان مړه شول.

وَقُلۡنَا لَهُمۡ لَا تَعۡدُواْ فِي ٱلسَّبۡتِ وَأَخَذۡنَا مِنۡهُم مِّيثَٰقًا غَلِيظٗا ﴿١٥٤﴾

او ویلی وو مونږ دوی ته چه مه تیریږی له (حده) په (ورځی د) شنبی کښی (د ماهیانو په ښکار سره) او اخیستی وه مونږ له دوی څخه وعده محکمه (مضبوط قول په دغه خبره)

**تفسیر:** په یهودانو باندی حکم شوی ؤ چه د شنبی (خالی) په ورځ کښی د ماهی (کب) ښکار مه کوئ! او په دی ورځ کښی ، له گردو (ټولو) ورځو څخنی دیر کبان په اوبو کښی دوی ته په نظر ورتلل. نو یهودانو داسی چل او حیله جوړه کړه چه د سیند په غاړو کښی ئی حوضونه او ناوړونه (تالابونه) جوړ کړل، او د شنبی په ورځو کښی به ئی کبان په هغو حوضونو کښی ننه ایستل او ساتل، او په نورو ورځو کښی به ئی ښکار کول. د دی فریب او عهد ماتولو له امله (وجی) الله تعالیٰ له دوی څخنی بیزوگان جوړ کړل چه په ځناورانو کښی دیره خسیسه محیله (حیله کونکی) او مکاره طبقه ده.

فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِّيْثَاقَهُمْ وَكُفْرِهِمْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَقَتْلِهِمُ الْاَنْۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَّقَوْلِهِمْ
قُلُوْبُنَا غُلْفٌ ۭ بَلْ طَبَعَ اللّٰهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿١٥٥﴾

پس (په سزا ورسولی شول دوی) په سبب د ماتولو د دوی د کلک عهد خپل او په سبب د کفر (د نیکونو) د دوی په آیتونو د الله باندی او په وژلو د دوی انبیاؤ لره (لکه یحیٰی،زکریا) په ناحقه (په خپلی عقیدی سره هم) او په ویلو د دوی (دا خبره نبی ته د تمسخر په ډول (طریقه) چه زړونه مو په پردو کښی پټ دی، (ستا وینا پری اثر نه کوی. نو الله د دغو یهودانو په رد کښی فرمایي چه داسی نه دی لکه چه تاسی ئی وایئ) بلکه مهر (د غفلت) وهلی دی الله په زړونو د دوی په سبب د کفر د (نیکونو د) دوی پس ایمان نه راوړی دوی مگر لږ (د دوی)

**تفسیر:** یعنی یهودانو هغه عهد مات کړ، نو الله تعالیٰ په دوی باندی په دی عهد ماتولو او د نورو آیتونو په انکار، او د انبیاؤ علیهم السلام په ناحقه وژلو او د دوی په دی وینا باندی چه زمونږ په زړونو باندی پردی او پوښونه دی خورا (ډیر) سخت سخت عذابونه نازل کړل. کله چه زمونږ رسول صلی الله علیه وسلم یهودانو ته هدایت کاوه ، دوی وویل چه زمونږ زړونه په پردو کښی دی، او ستا خبری هلته نه رسیږی. الله تعالیٰ فرمائی چه خبره داسی نه ده. بلکه د دوی د کفر او انکار په سبب د دوی پر زړو باندی الله جل جلاله مهر لگولی دی، چه د دغه مهر له امله (وجی) ایمان د دوی په برخه نشی کیدی مگر لږ څه کسان له دی نه مستثنیٰ دی. لکه عبدالله بن سلام او د هغه نور ملگری (رضی الله تعالیٰ عنهم)

وَّبِكُفْرِهِمْ وَقَوْلِهِمْ عَلٰى مَرْيَمَ بُهْتَانًا عَظِيْمًا ﴿١٥٦﴾ وَّقَوْلِهِمْ اِنَّا قَتَلْنَا
الْمَسِيْحَ عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ۚ

او په سبب د کفر د (نیکونو د) دوی (مکرراً) او (په سبب د) ویلو د دوی پر مریمی دروغ ډیر غټ (د زنا) او (په سبب د) ویلو د دوی (داسی چه) بیشکه وژلی دی مونږ مسیح عیسیٰ زوی د مریمی رسول د الله (په گومان خپل)

**تفسیر:** او له دی جهته چه د حضرت عیسیٰ علیه السلام څخه منکران شول او بل ئی کفر ځانونو ته غوره کړ او پر حضرت بی‌بی مریمی رضی الله تعالیٰ عنها ئی لوی تهمت (تور) وکړ او د دوی پر دی خبری باندی چه په افتخار سره به ئی ویل «مونږ وژلی دی عیسیٰ زوی د مریمی چه د ده له اظهار سره سم د الله تعالیٰ رسول ؤ» نو د دی ګردو (تولو) جهتونو له امله (وجی) پر یهودانو باندی عذابونه او مصیبتونه نازل شول. (که لفظ د «رسول الله» د یهودانو وینا وی نو استهزا ده. او که د الله جل جلاله وی استیناف یعنی ځانته جمله ده منصوب بالمدح ده، یعنی مدح کوم د رسول الله نو فرمایی الله په تکذیب د یهودانو کښی)

---

وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَٰكِن شُبِّهَ لَهُمْ ۚ وَإِنَّ الَّذِينَ اخْتَلَفُوا فِيهِ لَفِي شَكٍّ مِّنْهُ ۚ مَا لَهُم بِهِ مِنْ عِلْمٍ إِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ ۚ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًا ﴿١٥٧﴾ بَل رَّفَعَهُ اللَّهُ إِلَيْهِ ۚ وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿١٥٨﴾

---

حال دا چه نه ؤ وژلی دوی دغه (عیسیٰ واقعاً) نه پر دار کړی ؤ دغه (یقیناً) و لیکن مشتبه کړی شو (دغه وژلی شوی په دار وهلی شوی په عیسیٰ سره) دوی ته، او بیشکه هغه کسان چه اختلاف کړی دی دوی په (حق د) عیسیٰ کښی خامخا په شک کښی دی په (شان) د ده کښی نشته دوی ته په (شان) د ده کښی هیڅ علم مګر تش متابعت د ګومان (خپل) او نه ؤ وژلی دوی عیسیٰ (په وژلو یقینی سره)، بلکه پورته کړی ؤ دی الله طرف خپل ته، او دی الله ښه قوی غالب (د احکامو په انفاذ) ښه حکمت والا (چه هر کار په تدبیر او مصلحت کوی)

---

**تفسیر:** الله تعالیٰ د دوی د دی وینا تکذیب کوی او فرمایی چه دغو یهودیانو په واقع کښی حضرت عیسیٰ علیه السلام نه دی وژلی او نه ئی په دار کړی ؤ. هغه مختلفی خبری چه یهودان ئی په دی باره کښی کوی له خپله فکره او اټکله ئی وایی او د الله تعالیٰ له لوری په شبهه کښی اچول شوی دی. او له دوی څخه هیڅوک په اصلی خبری نه دی خبر رښتیا خبره دا ده چه الله تعالیٰ حضرت عیسیٰ علیه السلام آسمان ته وخیژاوه او الله تعالیٰ پر ګردو (تولو) شیانو باندی قادر او په هر کار کښی ئی یو حکمت دی. خبره دا ده کله چه یهودانو د حضرت عیسیٰ علیه السلام وژلو ته عزم او قصد وکړ ، نو ړومبی یو سړی د عیسیٰ علیه السلام کور ته ننوت کله چه

الله تعالیٰ عیسیٰ علیه السلام آسمان ته وخیژاوه نو پاک الله د دې سړي شکل لکه د عیسیٰ علیه السلام غوندې واړاوه او ورسره مشابه ئې کړ. څرنګه چه نور یهودان هغه پسې د عیسیٰ علیه السلام کور ته ننوتل هغه سړی ئې چه نوم ئې طیطاؤش ؤ مسیح وګڼله او و ئې واژه وروسته له هغه دوی ته داسې یو خیال پیدا شو چه «د دې مصلوب مخ خو د مسیح له مخ سره ډیر مشابه دی. او نور بدن ئې زمونږ د ملګری په شان راښکاری» چا وویل «که دا مقتول مسیح وی نو زمونږ سړی «طیطاؤش» چیری لاړ؟ او که دا زمونږ سړی دی نو مسیح چیری دی؟ تش په اټکل او ګومان هر چا هر څه ویل او اصلي خبره له دوی څخنې هیچا ته ښکاره نه وه رښتیا خو هم دا ده چه په یقین سره عیسیٰ علیه السلام دوی له سره وژلی نه دی. بلکه الله آسمان ته پورته کړی دی او یهودان ئې په شبهه کښې اچولی دی.

---

وَإِن مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ إِلَّا لَيُؤۡمِنَنَّ بِهِۦ قَبۡلَ مَوۡتِهِۦۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَكُونُ عَلَيۡهِمۡ شَهِيدٗا ﴿١٥٩﴾

---

او نیشته هیڅوک له اهل د کتابه مګر قسم دی هرومرو (خامخا) چه ایمان به راوړی دوی خامخا (په وخت د نزعی خپلی یا په وخت د نزول د عیسیٰ پر دغه (عیسیٰ) په خوا له مرګه د ده څخه او په ورځ د قیامت کښې به وی (عیسیٰ) پر دوی باندی شاهد (چه یهودانو ونه منلم او نصرانیانو «ابن الله» وبللم).

---

**تفسیر:** حضرت عیسیٰ علیه السلام پر آسمان کښې ژوندی موجود دی کله چه (دجال پیدا شی نو هله به عیسیٰ علیه السلام بیا دغی ځمکی ته تشریف راوړی او (دجال) به وژنی او یهودان او نصرانیان به په ده باندی صحیح ایمان راوړی چه بیشکه عیسیٰ ژوندی دی، مړ شوی نه دی او د قیامت په ورځ کښې به حضرت عیسیٰ علیه السلام د دوی دغه ګرد (تول) اعمال او حالات اظهاروی چه یهودانو زما تکذیب او نصرانیانو ماته د الله جل جلاله زوی ویل»

---

فَبِظُلۡمٖ مِّنَ ٱلَّذِينَ هَادُواْ حَرَّمۡنَا عَلَيۡهِمۡ طَيِّبَٰتٍ أُحِلَّتۡ لَهُمۡ وَبِصَدِّهِمۡ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ كَثِيرٗا ﴿١٦٠﴾ وَأَخۡذِهِمُ ٱلرِّبَوٰاْ وَقَدۡ نُهُواْ عَنۡهُ وَأَكۡلِهِمۡ أَمۡوَٰلَ ٱلنَّاسِ

بِالْبَاطِلِ ۗ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٦١﴾

نو په سبب د ظلم له هغو کسانو چه یهودان دی حرام کړل مونږ پر دوی باندی طیبات (هغه ډیر پاک شیان) چه حلال کړی شوی وو دوی ته او (په سبب د) اړولو (منع کولو) د دوی له لاری د الله څخه ډیر (خلق) او (په سبب د) اخیستلو د دوی سود (له خلقو نه) حال دا چه په تحقیق منع کړی شوی وو دوی (په تورات کښی) له دغه (سوده) او (په سبب د) خوړلو د دوی مالونه د خلقو په ناحقه سره چه رشوت او نور ناروا شیان دی) او تیار کړی دی مونږ له پاره د کافرانو له دوی څخه عذاب ډیر دردناک.

تفسیر: د یهوداتو د ګردو (تولو) پخوانیو او وروستنو سختو شرارتونو ذکر ئې وفرمایه چه له هغو څخنې د دوی سرکښی او په ګناهونو باندی څرګندوالی (تینګ والی) او زړه‌ورتیا ښکاره شوه اوس فرمایی چه مونږ دوی باندی سخت شریعت هم کیښود چه سرکښی ئې ماته شی، نو هیڅ شبهه نشوه پاتی چه د طیباتو تحریم په دوی باندی په «تورات» کښی شوی ؤ او له حضرت عیسیٰ علیه السلام سره مخالفت او (بی‌بی مریمی) باندی اتهام ، د «تورات» له نزوله خورا (ډیر) وروسته شوی دی، نو له جرمه څخه پخوا څرنګه سزا مقدمه شوه؟ د دی ګردی (تولی) رکوع خلاصه داسی شوه د حضرت موسیٰ علیه السلام د زمانی راهسی اهل د کتاب پرله پسی په خورا (ډیر) لویو شرارتونو او ډیرو سرغړولو، عهد ماتولو او د انبیاؤ علیهم السلام په ایذا او ضرر رسولو کښی مشغول وو. ای محمده صلی الله علیه وسلم ! اوس که دوی د عناد له مخی له تا څخه د «تورات» غوندی یو کتاب دفعتاً یو ځلی طلب کړی او پر قرآن عظیم باندی (چه له ګردو (تولو) کتابونو څخنې افضل دی). کفایت ونه کړی. نو له دی متعصبو او نالائقو څخنې هیڅ لری او مستبعد نه دی، د دوی له هسی ناوړو (بیکاره) او نالائقو حرکاتو څخه تعجب مه کوه ! او مه حیرانیږه ! د دوی ګرد (تول) پخوانی او وروستنی وړوکی او لوی حرکات مونږ ته ښه معلوم دی، مونږ د دوی دپاره په دنیا کښی خورا (ډیر) سخت شریعت معین کړی او په اخرت کښی مو هم ډیر سخت عذاب ورته مقرر او تیار کړی دی.

لَٰكِنِ الرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ مِنْهُمْ وَالْمُؤْمِنُونَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ
وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ ۚ وَالْمُقِيمِينَ الصَّلَاةَ ۚ وَالْمُؤْتُونَ الزَّكَاةَ

وَالْمُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أُولَٰئِكَ سَنُؤْتِيهِمْ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿١٦٢﴾

لیکن هغه (کسان) چه پاخه دی په علم کښې له دوی ځنی او ایمان لرونکی ایمان لری په هغه (کتاب) چه نازل کړی شوی دی تاته او (ایمان لری) پر هغو (کتابونو) چه نازل کړی شوی دی پخوا له تا ځخه او (ایمان راوړی پر تولو انبیاؤ) سم قائم کوونکو د لمانځه او هغه کسان چه ورکوونکی دی زکات لره (یا) او (صفت کوو د) سم قائم کوونکو د لمانځه او هغه کسان چه ورکوونکی دی زکات لره او ایمان راوړونکی په الله او په ورځی آخری (چه قیامت دی) دغه (کسان چه د صحیح ایمان او صالح عمل لرونکی دی) ژر به ورکړو مونږ دوی ته ثواب ډیر لوی (جنت، رضا، او لقاء)

**تفسیر:** یعنی د بنی اسرائیلو هغو کسانو چه مضبوط علم ئی درلود (لرلو)، لکه عبدالله بن سلام او د هغه ملګری رضی الله تعالیٰ عنهم او هغه خلق چه د ایمان خاوندان دی ، دوی قرآن ، تورات، انجیل او نور ګرد (تول) منی ، د لمانځه د سم اداء کوونکی له مدح او صفت او ښه حال ځخه ځه پوښتنی کوی، او زکات ورکوونکی او ایمان لرونکی په الله او په قیامت چه دی، مونږ دغو ستایلیو شویو کسانو ته خورا (ډیر) لوی ثواب او اجر ورکوو. پرته (علاوه) له ړومبنی فریقی چه د هغوی دپاره خورا (ډیر) سخت عذاب موجود دی (پاس په تحت اللفظ کښې د «المقیمین الصلوة» دوه ترجمی لیکلی شوی دی

١. چه «المقیمین» په ﴿ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ ﴾ عطف او تری انبیاء مراد شی. یعنی **یؤمنون بالکتب و بالانبیاء المقیمین الصلوة.**

٢. چه یؤمنون خبر شی د «الراسخون» چه مبتداء دی او «المقیمین» په مدح سره منصوب شی چه د هغه ترکیب تقریر اوس تیر شو.

إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ

بیشکه چه مونږ وحی مو کړی ده تاته (ای محمده !)

**تفسیر:** اهل د کتابو او د مکی معظمی مشرکانو او نورو کفارو د قرآن مجید په حقانیت او صداقت کښې راز راز (قسم قسم) خوشی چتی (بیکاره) شبهی پیدا کولی. وګورئ ! چه دلته ئی داسی وویل لکه چه تورات یو ځای او یو ځلی له آسمانه رانازل شو، ښایی هم هغسی ته هم یو کتاب له آسمانه راوړی، بیا تا رښتینی نبی ګڼوځه نه ویلی دی هر چا چه ویلی دی

د نابود سری پلمی (تدبیرونه) ډیری زده وی
بدئ کار او چپ ئ چاره هره خبره ئی کړه وی

نو الله تعالیٰ په څو ځایونو کښې آیتونه نازل کړل او حقیقت ئی راښکاره کړ. او د وحی عظمت ئی راڅرګند کړ، او د کفارو د ګردو (تولو) چټی (بیکاره) او بیهودهؤ خیالاتو او شبهاتو تردید ئی وفرمایه او د الله تعالیٰ د وحی متابعت ئی په تعمیم، او د قرآن مجید اطاعت ئی په تخصیص سره بیان وفرمایه او دا ئی راوښوده چه د الله جل جلاله حکم منل پر ګردو (تولو) باندی فرض دی او د هیچا هیڅ یو عذر په دی کښې نه منل کیږی هر څوک چه د ده په تسلیم کښې تردد یا تأمل یا انکار کوی، هغه ګمراه او بی دین دی. اوس له دی ځایه تحقیقی ځواب ورکاوه کیږی. دغه ده چه فرمائی.

## كَمَآ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰ نُوحٍ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعْدِهِۦ

لکه چه وحی کړی وه مونږ نوح ته او (نورو) انبیاؤ ته پس له ده (لکه هود، صالح لوط ، شعیب او نور)

**تفسیر:** له دی نه معلومه شوه چه وحی خاص د الله تعالیٰ حکم او د ده هغه پیغام دی چه په انبیاؤ علیهم السلام باندی نازلیږی او همغسی چه پر پخوانیو انبیاؤ باندی د الله جل جلاله وحی نازله شوی ده، همغسی پر حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی هم الله تعالیٰ خپله وحی نازله کړی ده، نو هر هغه چا چه هغه پخوانی وحی منلی ده، ښایی چه دا هم هرومرو (خامخا) ومنی او هر هغه چه له هغی ځنی انکار کوی، ګواکی له ګردو (تولو) ځنی انکار کوی او له حضرت نوح علیه السلام او له ده ځنی له وروستنیو انبیاؤ علیهم السلام سره د مشابهت وجه ښائی دا وی چه هغه وحی چه د حضرت آدم علیه السلام له وخته شروع شوی وه، هغه بیخی په ابتدائی حالت کښې وه. په حضرت نوح علیه السلام باندی د هغی تکمیل وشو، ګواکی په ړومبنی حالت کښې هغی تش یو تعلیمی حالات لرلو د حضرت نوح علیه السلام په زمانه کښې هغه کمال ته ورسیده او د دی وړ (لائق) شوه چه د امتحان مورد وګرځی حکم منونکو ته انعام او غاړه غړونکو ته سزا ورکړه شی لکه چه د اولوالعزمو انبیاؤ علیهم السلام سلسله هم د حضرت نوح علیه السلام له زمانی راهیسی شروع شوه او د الله تعالیٰ له وحی څخه پر غاړه غړونکو باندی اول ځلی د عذاب نزول هم د حضرت نوح علیه السلام له رسالت څخه شروع شو، خلاصه ئی دا چه د نوح علیه السلام له زمانی پخوا د الله جل جلاله او د انبیاؤ علیهم السلام د حکم پر مخالفت باندی عذاب نه نازلیده بلکه دوی به معذور ګڼل کیدل او د تعطیل او تاخیر رعایت به پکښې کیده او ډیر زیات کوښښ به د دوی په پوهولو کښې صرفیده ، د

حضرت نوح علیه السلام په زمانه کښې کله چه مذهبي تعلیم ښه ظاهر شو او خلقو ته د الله تعالیٰ د احکامو په متابعت کښې هیڅ یوه خفاء پاتې نه شوه نو دلته پر غاړه غړونکو باندې عذاب نازل شو ، اول د نوح علیه السلام په زمانه کښې طوفان نازل شو، وروسته له هغه د حضرت هود علیه السلام او حضرت صالح علیه السلام او حضرت شعیب علیه السلام په زمانو کښې کافرانو باندې نور راز راز (قسم قسم) عذابونه نازل شول، نو د محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم د وحي تشبیه څخه د هغو پخوانیو انبیاؤ له وحیو سره اهل د کتابو او د مکې معظمې مشرکانو ته پوره تنبیه ورکړه شوه او دوی ته دا خبره لا څرګنده کړې شوه هر څوک چه د محمد صلی الله علیه وسلم وحي یعني قرآن عظیم الشان نه مني نو هغه هم د لوی عذاب وړ (لائق) او مستحق ګرځي.

وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ وَإِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ وَٱلْأَسْبَاطِ وَعِيسَىٰ وَأَيُّوبَ وَيُونُسَ وَهَٰرُونَ وَسُلَيْمَٰنَ ۚ وَءَاتَيْنَا دَاوُۥدَ زَبُورًا ﴿١٦٣﴾ وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنَٰهُمْ عَلَيْكَ مِن قَبْلُ وَرُسُلًا لَّمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ ۚ وَكَلَّمَ ٱللَّهُ مُوسَىٰ تَكْلِيمًا ﴿١٦٤﴾

او (لکه چه) وحي کړې وه مونږ ابراهیم ته او اسمٰعیل ته او اسحٰق ته او یعقوب ته او اولادې (د یعقوب) ته او عیسیٰ ته او ایوب ته او یونس ته او هارون ته او سلیمٰن ته او ورکړې ؤ مونږ داؤد ته زبور او (لیږلي وو مونږ نور داسې) رسولان چه په تحقیق سره قصه کړې ده مونږ د دوی پر تا (ای محمده !) پخوا له دې نه او (لیږلي وو مونږ نور داسې) رسولان چه نه مو دي کړې قیصې د هغوی پر تا ، (ای محمده) او کلام کړی دی الله له موسیٰ سره په کلام کولو.

**تفسیر:** له حضرت نوح علیه السلام څخه وروسته انبیاء علیهم السلام ئې په اجمال، او هغه انبیاء علیهم السلام ئې چه په دوی کښې مشهور او جلیل القدر او اولوالعزم دي، په تخصیص او تفصیل سره ذکر کړل چه له دې څخې دا ښه معلومه شوه هغه وحي چه پر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم باندې نازله شوې ده ، د هغې حقانیت او د هغې منل هم داسې ضروري دي، لکه چه د نورو اولوالعزمو او مشاهیرو انبیاؤ علیهم السلام وحي منل ضروري ؤ او دا هم راښکاره شوه چه پر نورو انبیاؤ باندې چه وحي راتلله کله به دوی ته پرښتو پیغام راوړ او کله به هغوی ته لیکلي

کتاب وورسیدو، کله به د ملائکو له وسیلې پرته (علاوه) په خپله الله تعالیٰ خپل رسول سره خبرې کولې مګر په دې ګردو (تولو) صورتونو کښې ځرنګه چه د الله تعالیٰ حکم دی او د بل چا حکم نه دی نو پر بندګانو باندې د هغه اطاعت یو شان فرض دی اعم له دې چه تر بندګانو پورې د هغه د رسیدلو طریقه تحریري وي، که تقریري وي، او که پیغام وي، نو اوس د یهودانو دا وینا «که تاسې د تورات غوندې یو کتاب یو ځلې له آسمانه په موږ نازل کړئ! نو موږ به تا رښتینی ګڼو که نه، نو، دا ډیره د ناپوهۍ او بې‌ایمانۍ او حماقت خبره ده. هر کله چه وحی د الله تعالیٰ حکم دی، نو د هغې د نزول صورتونه متعدد دي په هر صورت سره چه وحی راشي د هغې په منلو کښې تردد او انکار. یا داسې ویل «که په هغه ځانته طریقې سره راشي، نو موږ ئې منو ، که نه وي، نو نه ئې منو.» صریح کفر او ښکاره حماقت دی.

رُسُلًا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللَّهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ ۚ وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿١٦٥﴾

(او لیږلي مو دي) رسولان چه زیرې کوونکي دي (مؤمنانو ته په جنت) او ویرونکي دي (د کفارو په جحیم) له پاره د دې چه پاتې نشي خلقو ته پر الله باندې هیڅ حجت (دلیل، عذر، بهانه) وروسته له (لیږلو) د رسولانو، او دی الله ښه غالب قوي (په انفاذ د احکامو) ښه حکمت والا چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوي).

**تفسیر:** الله تعالیٰ پرله پسې خپل انبیاء علیهم السلام رالیږلي دي، چه مؤمنانو ته زیرې ورکړي، او کافران وویروي، تر څو د قیامت په ورځ کښې خلقو ته د دې عذر او بهانې ځائې پاتې نشي، چه ووائي «ای ربه! موږ ته ستا رضا او غیر رضا معلومه نه وه، او که رامعلومه وي نو هرومرو (خامخا) به مو په هغو باندې تګ کړی وي.» نو ځکه الله تعالیٰ خپلو رسولانو ته معجزې ورکړې ، او ور وئې لیږلي او رسولانو هم د حق لارې خلقو ته وروښودلې. نو وروسته له دې نه د حق دین په منلو کښې د هیچا عذر او پلمه (بهانه) نه اوریده کیږي د الله جل جلاله وحی داسې قطعي حجت دی چه د هغې په مقابل کښې هیڅ یو سند او حجت نشي چلیدی ، بلکه نور ګرد (تول) حجتونه باطل او بیکاره کوي او دغه د الله تعالیٰ حکمت او تدبیر دی. که زور او زبردستي وکړي نو څوک ئې منع کولی شي، مګر جبر او ظلم الله تعالیٰ نه خوښوي. (او ډیر غالب او قادر دی په انفاذ او اجراء د هر راز (قسم) احکامو پر مخلوقاتو او محکم کار دی په امر د نبوت او په قطع د حجت کښې) (اګر که یهودان ستا په نبوت شاهدي نه ورکوي او ترې انکار کوي).

لٰكِنِ اللّٰهُ يَشْهَدُ بِمَآ اَنْزَلَ اِلَيْكَ اَنْزَلَهٗ بِعِلْمِهٖ ۚ وَالْمَلٰٓئِكَةُ
يَشْهَدُوْنَ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ؕ ﴿١٦٦﴾

لیکن الله شاهدی لولی (اظهار اقرار کوی) په هغه شی چه نازل کړی ئی دی تاته (ای محمده) چه نازل کړی ئی دی دا (معجز قرآن پر تا) په علم خپل سره، او ملائکی هم شاهدی لولی (په نبوت ستا) او بس دی الله (حق ظاهر کوونکی. نو د دوی شهادت ته حاجت نشته.

**تفسیر:** یعنی وحی به په هر رسول باندی نازلیده ، دا کومه نوی خبره نه ده او ګردو (تولو) ته معلومه ده لیکن په دی قرآن کښی الله تعالیٰ خپل خاص علم رالیږلی دی، او الله تعالیٰ به دا حق ظاهروی. لکه پوهان چه پری پوهیږی هغه علوم او حقائق چه له دی قران عظیم څخه حاصل شوی دی ، او پرله پسی حاصلیږی هغه له نورو کتابونو څخنی له سره په لاس نه دی راغلی ، او هومره هدایت چه خلقو ته د محمد صلی الله علیه وسلم له وجوده رسیدلی دی، د بل چا له وجوده نه دی رسیدلی.

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ قَدْ ضَلُّوْا ضَلٰلًا بَعِيْدًا ﴿١٦٧﴾
اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَظَلَمُوْا لَمْ يَكُنِ اللّٰهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ طَرِيْقًا ۙ ﴿١٦٨﴾
اِلَّا طَرِيْقَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿١٦٩﴾

بیشکه هغه کسان چه کافران شوی دی (د محمد له نبوت څخه) او اړولی منعه کړی ئی دی (خلق) له لاری د الله (اسلام) څخه په تحقیق سره ګمراه شوی دی په ګمراهی ډیری لری سره (د حق له لاری نه) بیشکه هغه کسان چه کافران شوی دی او ظلم ئی کړی دی (په پټولو د نعت د محمد یا په منعه د مؤمنانو له ایمانه) نه دی الله چه مغفرت وکړی دوی ته او نه چه وښیی دوی ته سمه صافه لاره (څو چه دوی کافران دی) مګر (وبه ښیی دوی ته) لاره د

دوزخ چه همیشه به وی دوی په هغه کښې تل تر تله (بی انتها بلا انقطاع) او دی دغه (ادخال او خلود فی النار) پر الله باندې ډیر آسان.

**تفسیر:** د قرآن مجید او د حضرت محمد صلی الله علیه و آله و صحبه وسلم له تصدیق او توثیق څخه وروسته فرمائی هغه کسان چه ستا له رسالت څخه منکران شول، او ستا هغه اوصاف او حالات چه په «تورات» کښې موجود وو، هغه ئې ګرد (تول) پټ کړل، او خلقو ته ئې د هغو په ځای نور مهمل شیان ورخرګند کړل او نور ئې هم له حقانی دین څخه واړول، نو داسی کسان له سره نه د هدایت وړ (لائق) او نه د مغفرت مستحق دی» له دی نه دا خبره ښه ښکاره شوه چه هدایت یوازی د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په متابعت کښې منحصر دی. او ګمراهی د محمدی صلی الله علیه وسلم شریعت د مخالفت نوم دی. چه په دی سره د یهودانو پوره سرزنښ او ترټنه وشوه، او د دوی د خیالاتو غلطول لا ښه واضح شول

يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَكُمُ الرَّسُولُ بِالْحَقِّ مِن رَّبِّكُمْ فَآمِنُوا خَيْرًا لَّكُمْ ۚ وَإِن تَكْفُرُوا فَإِنَّ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١٧٠﴾

ای خلقو! په تحقیق راغلی دی تاسی ته رسول (محمد) په حق (قرآن یا اسلام) سره له (طرفه د) ربه ستاسی نو ایمان راوړئ (او قصد وکړئ! د هغه شی چه) خیر دی تاسی ته، او که کافران شوی یئ تاسی پس بیشکه خاص الله لره دی هغه شیان چه په آسمانونو کښې دی او (هغه شیان چه په) ځمکه کښې دی (سره له آسمانونو او ځمکی ملکاً خلقاً او عبیداً)، او دی الله ښه عالم (په ټولو احوالو) ډیر حکمت والا (چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی).

**تفسیر:** ستاسی او ستاسی د کتاب تصدیق ، او ستاسی د مخالفینو یعنی د اهل کتاب تغلیط او تضلیل ئې بیان کړ، اوس ګردو (ټولو) خلقو ته ندا کاوه شی چه «ای خلقو! زما صادق رسول له رښتینی کتاب او حق دین سره تاسی ته درغلی دی، ستاسی خیر په هم دی کښې دی ، چه د هغه ګردی (ټولی) خبری ومنئ ! او که ئې ونه منئ!، نو ستاسی دغه کفر الله جل جلاله ته هیڅ ضرر نه شی رسولی، ځکه چه خاص الله جل جلاله لره هغه ګرد (ټول) شیان دی چه په آسمانونو او ځمکو کښې دی. او الله جل جلاله ستاسی په ګردو (ټولو) احوالو او افعالو خبردار

دی. ستاسی د ټولو اعمالو پوره حساب او کتاب کوی، او بدل ئی درکوی.
**(فائده):** له دی ارشاداتو څخنی واضحه معلومه شوه د هغی وحی منل فرض دی چه پر انبیاؤ علیهم السلام باندی نازلی شوی دی. او د هغی څخه انکار کول کفر دی.

يٰٓأَهْلَ الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوا فِىْ دِيْنِكُمْ وَلَا تَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ إِلَّا الْحَقَّ ۚ إِنَّمَا الْمَسِيْحُ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ وَكَلِمَتُهٗ ۚ أَلْقٰهَآ إِلٰى مَرْيَمَ وَرُوْحٌ مِّنْهُ ۖ فَـَٔامِنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ ۖ وَلَا تَقُوْلُوْا ثَلٰثَةٌ ۚ اِنْتَهُوْا خَيْرًا لَّكُمْ ۚ إِنَّمَا اللّٰهُ إِلٰهٌ وّٰحِدٌ ۖ سُبْحٰنَهٗٓ أَنْ يَّكُوْنَ لَهٗ وَلَدٌ ۘ

ای اهل د کتابو! مه کوئ! تاسی مبالغه (تجاوز له حدودو) په دین ستاسی کښی او مه وایئ تاسی پر الله مګر (ویل) حق (ریښتیا)، بیشکه هم دا خبره ده بله نه ده چه مسیح عیسیٰ زوی د مریمی رسول د الله دی او (داسی) کلمه د ده ده، چه غورځولی ده (الله) دغه کلمه مریمی ته او روح دی له جانبه د الله نو ایمان راوړئ په الله او په رسولانو د ده (الله)!، او مه وایئ تاسی (داسی چه معبودان) دری دی، منع شئ تاسی (له دی وینا، اختیار کړئ توحید چه) خیر دی تاسی ته، بیشکه هم دا خبره ده چه الله حق معبود یو دی (بی‌شریکه بی‌عیبه) پاکی ده ده لره له دی چه شی ده ته (نسبت د) ولد،

**تفسیر:** کتابیانو د خپلو انبیاؤ علیهم السلام په تعریف کښی له مبالغی څخه کار اخیست او له حدودو د باندی وتل او خپل انبیاء علیهم السلام ئی خدای او د خدای زامن بلل نو الله تعالیٰ فرمایی چه د دین په خبرو کښی مبالغه مه کوئ! او په هغه چا چه اعتقاد لرئ! د هغه په تعریف کښی له حده تیری مه کوئ! هومره خبره چه محققه وی له هغی څخه څه زیاتوالی مه کوئ! او د الله تعالیٰ د مقدس شان په نسبت هم هغه خبری وایئ چه بیخی ریښتیا او محققی دی او له خپله ځانه هیڅ شی مه وایئ! له تاسی څخنی څومره لویه غلطی شوی ده، چه حضرت عیسیٰ علیه السلام ته چه د الله جل جلاله رسول او د الله جل جلاله په حکم پیدا شوی دی د وحی په خلاف د

الله جل جلاله زوی وایی او د دری خدایانو معتقدان شوی یئ ! یو الله جل جلاله دوهم حضرت عیسیٰ علیه السلام دریم بی‌بی مریم رضی الله تعالیٰ عنها له داسی خبرو ځنی مو خولی ونیسئ ! او الله تعالیٰ واحد احد دی هیڅوک له ده سره شریک نه دی او نه ئی څوک اولاد کیدی شی. د ده پاک ذات له دی ګردو (تولو) شیانو ځنی پاک او منزه او مقدس دی دا ګردی (تولی) خبری له دی نه پیدا شوی دی، چه تاسی د وحی اطاعت ونه کړ که تاسی د وحی اطاعت او متابعت کولی، نو الله تعالیٰ ته به مو د اولاد نسبت نه کاوه او د دری خدایانو په منلو سره به مو ځانونه صراحتاً نه مشرکانول او د سیدالرسل محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم او د افضل‌الکتب قرآن مجید او فرقان کریم تکذیب به مو نه کاوه او داسی پاخه کافران به نه کیدئ!.

**(فائده):** د کتابیانو یوی ډلی د حضرت عیسیٰ علیه السلام رسالت هم ونه مانه او د ده په وژلو پسی ئی ملاوی وتړلی چه د هغه ذکر پخوا تیر شو بلی ډلی له دی نه تیری کړی، عیسیٰ علیه السلام ئی د خدای زوی وګانه او دواړه ډلی کافرانی شوی. د دی دواړو فرقو د ګمراهی سبب هم دا شو چه له وحی ځنی ئی مخالفت وکړ ، له دی نه ښکاره شوه چه نجات یوازی د وحی په متابعت پوری منحصر دی.

---

لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ ؕ وَکَفٰی بِاللّٰهِ وَکِیْلًا ﴿۱۷۱﴾

---

خاص ده ته دی هر هغه څه چه په آسمانونو کښی دی (له علویاتو) او هر هغه څه چه په ځمکه کښی دی (له سفلیاتو سره له آسمانونو او ځمکی، ملکاً ، خلقاً او عبیداً) او بس دی الله وکیل (کار جوړوونکی).

---

**تفسیر:** یعنی په آسمانونو او ځمکو کښی له لاندی تر پاس پوری هر څه شیان چه دی تول د الله تعالیٰ مخلوقات، مملوکات او بندګان دی، او بیا وواییٔ چه، د الله تعالیٰ شریک او زوی څوک او څرنګه کیدی شی ؟ او الله تعالیٰ د ګردو (تولو) کارونو جوړوونکی دی. او د ګردو (تولو) کارونو د جوړولو دپاره هم هغه بس او کافی دی. بل هیڅچا ته حاجت نیشته نو اوس وواییٔ چه الله جل جلاله به شریک یا زوی ته څرنګه محتاج شی؟ خلاصه ئی دا چه نه په کوم مخلوق کښی د ده د شریک کیدلو څه قابلیت او لیاقت شته. او نه د ده په پاک ذات کښی د هغه د ځائیدلو څه امکان شته او نه دی ورته څه اړتیا (احتیاج) او حاجت لری. نو له دی نه دا معلومه شوه چه له مخلوقاتو ځنی کوم یوه مخلوق ته د الله تعالیٰ شریک یا زوی ویل د هغه چا کار او فکر دی چه له ایمان او عقل دواړو څخه محروم او بی برخی وی.

**(فائده):** له پاس مضمون څخه دا خبره ښکاره شوه هر هغه څوک چه د الله تعالیٰ دپاره زوی یا بل کوم شریک پیدا کوی نو دی په حقیقت کښی الله تعالیٰ د ګردو (تولو) موجوداتو پیدا کونکی نه ګڼی او ګرد(تول) موجودات د پاک الله مخلوق نه بولی او هم الله جل جلاله د ګردو

(تولو) حاجتونو د پوره کولو او کار جوړولو دپاره کافي نه گڼي او گواکي الله جل جلاله د الوهيت له مرتبې څخه وباسي او په مخلوقاتو او ممکناتو کښې ئې داخلوي نو اوس د هغې ناپاکۍ پته ولگيده چه د
﴿ سُبۡحَٰنَهُۥٓ أَن يَكُونَ لَهُۥ وَلَدٞۘ ﴾ په ارشاد کښې ورته اشاره شوې وه او څرنگه چه دغه ناپاکۍ په حقيقي او مجازي او ظاهري زامنو په گردو (تولو) کښې يو شاني موجوده ده، نو ښه ښکاره شوه چه هغه مقدس ذات له دې څخه پاک دی چه زوی ولري او دی له دې نه هم پاک او لوړ دی چه له خپلو مخلوقاتو څخنې کوم يو خپل زوی وگرځوي.

لَّن يَسۡتَنكِفَ ٱلۡمَسِيحُ أَن يَكُونَ عَبۡدٗا لِّلَّهِ وَلَا ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ ٱلۡمُقَرَّبُونَۚ

له سره ننگ (او عار) نه کوي مسيح له دې نه چه شي بنده دپاره د الله او نه (ننگ او نه عار کوي) پرښتې چه مقربې دي (د الله له بندگۍ څخه)

**تفسير:** يعني د الله جل جلاله ، عبوديت، عبادت او د ده حکمونه په ځای راوړل يو اعلیٰ درجه شرافت او عزت دی ، د دې لوی نعمت د قدر ، اهميت او د ضرورت پوښتنه دې له حضرت مسيح عليه السلام او نورو انبياؤ عليهم السلام او مقربينو ملايکو څخه وکړی شي ! نو دوی د الله تعالیٰ په عبادت ولې شرميږي ؟ او عار او ننگ ترې کوي؟ هو ! ذلت او بې غيرتي خو د ما سواء الله په بندگۍ کښې ده لکه چه نصرانيان حضرت مسيح عليه السلام ته ابن الله وائي او خپل معبود ئې تاکلی (مقرر کړی) دی، او مشرکان پرښتې د الله تعالیٰ لوڼې گڼي ، د دوی او د بتانو عبادت کوي. او د دوی دپاره تل ترتله عذاب او ذلت او سپکاوی شته.

وَمَن يَسۡتَنكِفۡ عَنۡ عِبَادَتِهِۦ وَيَسۡتَكۡبِرۡ فَسَيَحۡشُرُهُمۡ إِلَيۡهِ جَمِيعٗا ١٧٢
فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَيُوَفِّيهِمۡ أُجُورَهُمۡ
وَيَزِيدُهُم مِّن فَضۡلِهِۦۖ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ ٱسۡتَنكَفُواْ وَٱسۡتَكۡبَرُواْ

فَيُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ۙ وَلَا يَجِدُونَ لَهُمْ مِّن دُونِ اللَّهِ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿١٧٣﴾

او هر هغه چه ننګ (او عار) وکړی له عبادت د دغه (الله) څخه او تکبر (لوئی) وکړی نو ژر به راجمع کړی (الله) دوی طرف خپل ته تول (له پاره د جزا ورکولو) پس هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه) پس پوره به ورکړی (الله) دوی ته اجرونه د دوی (چه وعده ئی ورسره کړی شوی وه) او زیات به (هم) ورکړی دوی ته له مهربانی خپلی، او هغه کسان چه ننګ (او عار) ئی کړی وی او تکبر (لوئی) ئی کړی وی (د الله له عبادت څخه) نو عذاب به ورکړی دوی ته (الله) عذاب دردناک او نه به مومی دوی ځان ته بی له الله هیڅ دوست (نافع په آفاتو کښی) او نه هیڅ مددګار (دافع د عذاب).

**تفسیر:** یعنی هر هغه سړی چه د الله تعالیٰ له عبادت څخه سرکښی کوی، او غاړه تری غړوی نو دی به له سره بی پوښتنی پاتی نه شی بلکه یوه ورځ به دوی ګرد (تول) د الله تعالیٰ په مخ کښی تول کړل شی، او حساب به ورسره وشی، نو هغه کسان چه ایمان ئی راوړی وی، او ښه کارونه ئی کړی وی، یعنی د پاک الله بندګی ئی پوره په ځای کړی وی. نو دوی ته به د خپلو ښو کارونو پوره اجر او ثواب ورکړل شی، بلکه د الله تعالیٰ په فضل او مهربانی به د هغوی له ثواب څخه زیات نور خورا (ډیر) لوی لوی نعمتونه هم ورکړی شی، او هغه کسان چه د پاک الله له عبادت نه ئی سر غړولی وی ، په لویو عذابونو کښی به آخته شی، او هیڅوک به له هغو کسانو په داسی سختی کښی هم د دوی خیر غوښتونکی او مددګار نه وی چه دوی هغه د الله تعالیٰ په بندګی کښی شریک کړی وو، او کله چه دا مشرکان او کافران په عذابونو او ربړو (سختو) کښی پراته وی، هیڅوک او هیڅ شی به ئی بی له الله جل جلاله په کار ور نه شی نو نصرانیان دی اوس ښه وپوهیږی چه په دی دواړو صورتونو کښی د دوی له حال سره څه موافق او د حضرت مسیح علیه السلام له شان سره کوم یو کار لائق دی؟

يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَكُم بُرْهَانٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَأَنزَلْنَا إِلَيْكُمْ نُورًا مُّبِينًا ﴿١٧٤﴾
فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَاعْتَصَمُوا بِهِ فَسَيُدْخِلُهُمْ فِي رَحْمَةٍ
مِّنْهُ وَفَضْلٍ وَيَهْدِيهِمْ إِلَيْهِ صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا ﴿١٧٥﴾

ای خلقو په تحقیق راغلی دی تاسی ته برهان (دلیل، سند، حجت) له طرفه د) رب ستاسی (چه محمد دی) او نازل کړی دی مونږ تاسی ته نور (رڼرا) واضح ښکاره چه (قرآن دی) پس هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی په الله او منګولی ئی خښی کړی دی په (دین د) ده نو ژر به داخل کړی (الله) دوی په رحمت کښی چه له جانبه د ده دی او په مهربانی کښی او هدایت به وکړی (وبه ښیی الله) دوی ته خپل لوری ته لاره سمه صافه (د اسلام او اطاعت).

**تفسیر:** پخوا له دی نه د الله جل جلاله د وحی او بالخصوص د قرآن عظیم د عظمت او د هغه د حقانیت بیان او د هغه د متابعت د تاکید ذکر ؤ او د هغه په ذیل کښی د حضرت مسیح علیه السلام د الوهیت او د ابن الله توب ذکر وشو ، چه د هغه قائلان نصرانیان وو، د هغه د تردید او ابطال څخه وروسته ، بیا د هم هغه اصلی او ضروری خبری په نسبت ګردو (تولو) ته تاکید کیږی چه ای خلقو تاسی ته د رب العٰلمین جل جلاله له خوا کامل حجت او روښانه رڼا (رڼرا) در رسیدلی ده چه ستاسی هدایت ته بیخی کافی او وافی ده یعنی قرآن عظیم الشان ، اوس د هیڅ یو تامل او تردد ځای نشته، نو هر هغه څوک چه پر الله جل جلاله باندی ایمان راوړی او دغه مقدس کتاب مضبوط ونیسی ، نو دی به د الله جل جلاله په رحمت او فضل کښی داخلیږی او مستقیم به د ده په حضور مشرفیږی او هر څوک چه له هغه څخه مخالفت کوی، د دوی ګمراهی او خرابی فقط هم دغه مخالفت ګڼل کیږی.

## يَسۡتَفۡتُونَكَ قُلِ ٱللَّهُ يُفۡتِيكُمۡ فِي ٱلۡكَلَٰلَةِۚ

طلب د فتوی کوی دوی له تانه (ای محمده! د کلالی) نو ووایه چه الله فتوی درکوی تاسی ته په (میراث د) کلالی کښی،

**تفسیر:** په (٤) جزء د دی «النسآء» د سورت په (١٢) آیت (٢) رکوع کښی د «کلاله» د میراث ذکر تیر شوی دی ، وروسته له هغه ځینو لویو اصحابو رضی الله تعالیٰ عنهم د دی مسئلی په نسبت د نورو تفصیلاتو پوښتنی وکړی چه د دی غوښتنو په ځواب کښی دا آیت نازل شو. د «کلاله» معنی کمزور او ضعیف او دلته تری مراد هغه مړی دی چه د ده په وارثانو کښی پلار او اولاد هیڅوک نه وی. لکه چه پخوا له دی هم بیان شو، ځکه چه اصلی وارث والد او ولد دی، څوک چه دا نه لری، نو د ده حقیقی ورور او خور د زوی او لور حکم لری او که «حقیقی» نه وی نو هم دا حکم په«علاتی» کښی هم دی چه په پلار کښی سره شریکان وی، که یوه خور وی نیمائی، که دوی خویندی وی دوه ثلثه که ورور او خور دواړه وی نو نارینه ته دوه برخی او ښځی ته یوه برخه وررسیږی. که تش یو ورور وی ، خور هیڅ نه وی ، نو دی د خور د مال

وارث کیږی یعنی ده ته هیڅ یوه برخه معینه نه ده ، بلکه ټول وړی. څکه چه هغه «عصبه» دی لکه چه په راتلونکی آیت کښی دا ګرد (ټول) صورتونه مذکور دی ، اوس پاتی شو ، هغه خور او وروړ چه یوازی په مور کښی سره شریکان وی ،چه دوی ته «اخیافی» وائی نو د هغه حکم د دغه سورت په شروع کښی فرمایل شوی دی او برخه ئی معینه ده.

---

إِنِ ٱمۡرُؤٌاْ هَلَكَ لَيۡسَ لَهُۥ وَلَدٞ وَلَهُۥٓ أُخۡتٞ فَلَهَا نِصۡفُ مَا تَرَكَۚ

---

که یو سړی مړ شي چه نه وی ده لره زوی (او نه پلار) او وی ده لره یوه خور (عینیه یا علاتیه) نو (مقرر) دی دی ته نصف «نیم» د هغه مال چه پریښی وی «مړی».

---

**تفسیر:** یعنی که یو سړی مړ شي او یوه خور ولری نه زوی تری پاتی وی او نه پلار نو دی ته د میراث نیمایی مال وررسیږی.

---

وَهُوَ يَرِثُهَآ إِن لَّمۡ يَكُن لَّهَا وَلَدٞۚ

---

او دا ورور میراث وړی له دی خور څخه که نه وی دی لره زوی (او څوځات)

---

**تفسیر:** یعنی که د دی په عکس کومه ښځه بی ولده مړه شي او له دی څخنی «اعیانی» یا «علاتی» ورور پاتی شي، نو دا ورور د خپلی خور د مال وارث کیږی ، څکه چه «عصبه» دی. او که له دی ښځی څخنی زوی پاتی وی نو ورور ته ئی هیڅ نه وررسیږی او که تری لور پاتی وی، نو هغه مال چه د لور د برخی له ورکولو څخه وروسته پاتی وی ورور ته وررسیږی که «اخیافی» ورور یا خور ئی پریښی وی نو هغه ته شپږمه برخه معینه ده، لکه چه د دی سورت په ابتداء کښی ارشاد وشو.

---

فَإِن كَانَتَا ٱثۡنَتَيۡنِ فَلَهُمَا ٱلثُّلُثَانِ مِمَّا تَرَكَۚ

---

نو که وی دا خویندی دوه (یا زیاتی) نو مقرر دی دواړو ته دوه ثلثان له هغه ماله چه پریښی دی (مړی)

---

**تفسیر:** او که دوه یا له دوو څخنی زیاتی خویندی تری پاتی شي، نو دوی ته دوه ثلثه رسیږی.

وَإِن كَانُوٓا۟ إِخْوَةً رِّجَالًا وَنِسَآءً فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ ٱلْأُنثَيَيْنِ

او که وو دا(وارثان) ورونه او خویندی نارینه او ښځې پس مقرر دی هر نارینه ته په اندازه د برخې د دوو ښځو

**تفسیر:** یعنی څه ورونه او څه خویندی پریږدی ، نو وررور ته دوه برخې او خور ته ئې یوه برخه وررسیږی لکه چه د اولاد حکم دی.

يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمْ أَن تَضِلُّوا۟

بیانوی الله تاسی ته (احکام د میراث) چه گمراه (او خطا) نه شئ تاسی

**تفسیر:** یعنی رحیم او کریم خدای محض د خپلو بندگانو د هدایت او د دوی د فلاح او نجات له پاره خپل صادق او حق احکام بیان فرمایی، لکه چه دلته ئې د «کلاله» میراث بیان کړی دی. په دی کښې د الله تعالیٰ هیڅ غرض نشته. الله جل جلاله له گردو (تولو) څخه غنی او بی نیاز دی، نو که اوس څوک د الله تعالیٰ د داسی مهربانی قدر ونه کړی بلکه د ده د حکم څخه انحراف وکړی، نو هغه تل تر تله کمبخت او شقی پاتی کیږی. له دی ځنی دا راښکاره شوه چه بندگانو ته ښایی چه د گردو (تولو) احکامو متابعت وکړی او که په کوم معمولی او جزوی امر کښې هم مخالفت کوی، نو گمراه کیږی. نو بیا هغه کسان چه د ده په پاک ذات او په کمالیه ؤ صفاتو کښې، د ده له حکم څخه مخالفت کوی، او خپل عقل او خپله غوښتنه د الله جل جلاله په مقابل کښې د ځان مقتدا گرځوی ، د هغو د ضلالت او خباثت درجه هم دی نه قیاس کړئ چه په څه اندازه به وی.

وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌۢ ﴿١٧٦﴾

او الله پر هر شی ښه عالم دی (نو د بندگانو مصالح هم په حیات او هم په ممات کښې ورته معلوم دی)

**تفسیر:** پخوا له دی نه معلومه شوی وه چه الله تعالیٰ د خپلو بندگانو هدایت خوښوی، اوس فرمائی چه ده ته تول شیان معلوم دی، نو مطلب ئې داسی شو چه په دینی مسائلو کښې که تاسی ته کوم ضرورت درپیښ شی ، د هغه پوښتنه کوئ! کله چه د دی ارشاد په تعمیل کښې لویو اصحابو رضی الله تعالیٰ عنهم د «کلاله» د مسئلی پوښتنه وکړه نو د هغوی د تحسین په

لوری، او وروسته له دی نه د داسی سوالاتو کولو په نسبت د ترغیب اشاره فهمیږی ، او دا هم تری مفهومیږی چه الله جل جلاله ته گرد (تول) شیان معلوم دی او تاسی ته نه، نو دا هم نښئ ښوولئ چه په «کلاله» او په نورو صورتونو کښی هغه برخی چه مقرری شوی دی، د هغوی حقیقی علت څه شی دی؟ او بیا د بنی آدمانو عقل د دی خبری وړ(لائق) او قابل کله کیدی شی، چه د حق سبحانه و تعالیٰ په ذات او صفاتو کښی په خلاف د وحی جرأت وکری، کله چه دوی د خپلو تعلقاتو او د اقاربو او د خپلوانو له فرق او امتیاز څخه عاجز او ناتوانه دی، نو د الله تعالیٰ په بی مثله او بی سیاله او بی شریکه ذات او صفاتو باندی د پاک الله له ښوونی څخه څرنگه وپوهیږی؟ او په څه ډول (طریقه) ئی راښکارولی شی؟

**(فائده)** دلته د «کلاله» له حکمه او د هغه د نزول د سبب له بیان کولو څخه څو خبری رامعلومی شوی

۱ـ دا لکه چه پخوا ئی ﴿ وَلَنْ تَكْفُرُوْا فَإِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ﴾ وفرمایل وروسته له هغه ئی د تمثیل په ډول (طریقه) د کتابیانو حال بیان کړ، او هم داسی وروسته د ﴿ فَأَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَاعْتَصَمُوْا بِهٖ ﴾ الآیة ـ له ارشاده د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم اصحاب ئی د تمثیل په ډول (طریقه) کړل ، څو له وحی څخه د انحراف کونکو گمراهی او بدی، او د وحی د متابعت کوونکو حقانیت او نیکی ښه ښکاره، او وفهمیږی.

۲ـ د ده په ذیل کښی دغه خبره هم ظاهره شوه چه کتابیانو یو بل داسی خراب کار هم وکړ چه د اقدس سبحانه تعالیٰ ذات دپاره ئی شریک او اولاد وتاکه (مقرر کړو) او دا شنیع امر ئی خپل ایمان وگرځاوه . او د الله تعالیٰ په وحی کښی ئی وراندی او وروسته، او له خپله ځانه ئی شیان جوړ، او له هغه سره ئی په ښکاره ډول (طریقه) مخالفت وکړ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اصحابو دا حالت دی چه د ایمان د اصولو پر منلو او عبادت کولو برسیره په جزئیه ؤ معاملاتو او معمولی خبرو کښی هم لکه د میراث او د نکاح او د نورو مسئلو په متعلق د وحی متجسس او منتظر دی او په هر امر کښی د رسول کریم علیه و علیٰ آله و صحبه افضل الصلوٰة والتسلیم خولی ته گوری، او خپل عقل او غوښتنی حاکم نه گڼی، که په یو ځلی ئی تشفی او تسلی ونه شی نو مکرر د دوی په خدمت کښی حاضریږی او پرله پسی پوښتنی او گرویږنی (سوالونه) کوی، پرته (سیوا ) له کتابیانو چه دوی به هم هغه شیان کول، چه په فکرونو کښی به ئی راتلل.

یو په غم کښی پروت د نورو، بل غم نه خوری د خپل کور
څومره لری دی دوی دواړه ورک کری سره لور

۳ـ دا راښکاره شوه چه حضرت سیدالمرسلین صلی الله علیه وسلم به هم بی د وحی له حکمه له خپله ځانه حکم نه کاوه. که په کوم امر کښی به د وحی حکم نه ؤ، نو ویل به ئی چه «د وحی

تر نزوله پوری ښائی انتظار وکړئ!»کله چه وحی راتله ، نو سم له هغی سره به حکم کیده له دی نه ښه ښکاره شوه چه د پاک الله له ذاته ماسویٰ بل هیڅوک حاکم نه دی لکه چه په ﴿ إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ﴾ او په نورو متعددو آیتونو کښی دا خبره په ښکاره ډول (طریقه) سره مذکوره ده. نور هر څوک چه دی ګرد (تول) واسطی دی، چه د هغو په وسیله نورو ته د الله تعالیٰ احکام رسیږی. هو! دومره توپیر(فرق) پکښی شته چه ځینی وسیلی ئی نژدی او ځینی ئی لری دی. لکه چه د باچا د حکمونو د رسولو دپاره صدر اعظم او نور مقربان وزیران، نظامی مشران، نائب الحکومګان ، اعلیٰ حاکمان ، نور حکام ، قوماندانان ، او ګرد (تول) کارداران درجه په درجه وسیله دی، بیا به له دی نه لویه ګمراهی څه وی؟ چه په یوه کار کښی د الله تعالیٰ د وحی په خلاف د کوم ګمراه خبری ته غوږ کیښود شی؟ او په هغه عمل وکړی شی؟

هر څوک چه ستا په ځای، نورو ته دی ګوری تل

لند لیدو نکی بولم دی، پور په نغدی اخلی تل

٤ـ اشاره ده دی لوری ته چه که ګرد (تول) کتاب یو ځلی نازل شی، لکه چه اهل الکتاب وایی، په هغه کښی څه ښیګنه (فایده) نشته. بلکه په دی کښی ډیر محاسن او ډیری ښیګنی (فایدی) دی، چه د حاجت او موقع سره سم توته توته په متفرق ډول (طریقه) سره نازل شی. ځکه چه په دی صورت کښی هر څوک له خپل ضرورت سره سم پوښتنی کولی شی او د متلو وحی (چه په لمانځه کښی هم لوستلی کیږی) په ذریعه د هغو ځواب ورکول کیدی شی. لکه چه په دی موقع کښی او د قرآن کریم په نورو ډیرو مواقعو کښی دا امر موجود دی او دا صورت برسیره پر زیاتی افادی، د الله تعالیٰ د ذکر د شرافت له سببه او د حق عز وجل د عزت د خطاب له امله (وجی) هسی عظیم فخر لره مشتمل دی، چه بل هیڅ یو امت لره نه دی په نصیب شوی. ﴿ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ﴾ د هر هغه صحابی په ښیګنه (فایده) یا د هغه د سوال په ځواب کښی چه کوم آیت نازل شوی دی، هغه د ده په مناقبو کښی شمیرل کیږی او د اختلاف په مواقعو کښی د هر یوه له رأیی او وینا سره چه متلو وحی سمه نازلیده نو تر قیامت پوری به دا د هغه په ښیګنو (فایدو) کښی حساب او ښه نوم ئی پاتی دی. نو د «کلاله» په نسبت د سوال او ځواب ذکر ئی وفرمایه او په دی ډول (طریقه) ئی د عمومی پوښتنو او ځوابونو په لوری اشاره وفرمایله. او ښایی چه د هم دی اشاری له امله (وجی) سوال ئی په مطلق ډول (طریقه) سره وی او مسئول عنه ئی له سوال سره ذکر نه کړ، بلکه په ځواب کښی ئی پری تصریح وفرمایله چه د هغه بل نظیر په قرآن شریف کښی نشته، او هم ئی ځواب بالتصریح د حق تعالیٰ په لوری منسوب وفرمایه. والله اعلم. والله الهادی.

الحاصل د ګردو (تولو) احکامو اصل او منشاء د الله جل جلاله وحی ده، او تول هدایتونه او لار ښوونی د وحی پر متابعت باندی موقوفی دی او کفر او ضلالت فقط د وحی په مخالفت کښی

منحصر دی، او څرنګه چه د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې د یهودانو او نصرانیانو او ګردو (ټولو) مشرکانو او نورو ګمراهانو د ګمراهۍ اصل او بنسټ (بنیاد) هم دا مخالفت ؤ، نو ځکه حق تعالیٰ د خپل پاک کلام په ډیرو ځایونو کښې د وحی د متابعت فضایل او د هغې د مخالفت په رذائلو باندی تنبیه وکړه او بالخصوص په دی موقع کښې ئی خو دوه رکوع مهتم بالشان مضمون دپاره نازلی کړی، او په تفصیل او تمثیل سره ئی بیان فرمایلی دی او ښایی چه له هم دی وجی نه امام «بخاری» رحمه الله په خپل کتاب کښې «د کیف کان بدء الوحی الی رسول صلی الله علیه وسلم» باب منعقد کړی دی او په هغه کښې د ﴿ إِنَّآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ كَمَآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ نُوحٖ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعۡدِهِۦۚ ﴾ آیت ئی په «ترجمة الباب» کښې داخل کړی دی او دی دواړو رکوعو ته ئی اشاره فرمایلی ده. ګواکی مطلب ئی دا دی و قوله تعالیٰ ﴿ إِنَّآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ كَمَآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ نُوحٖ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعۡدِهِۦۚ ﴾ الی آخره مضمون الوحی» والله اعلم

## تمت سورة «النسآء» بفضل الله خالق الارض والسماء! و نرجومنه فی الدنیا النعماء وفی الاخرة اللقاء!

---

سورة المآئدة مدینة الا آیة «٣» فنزلت بعرفات فی حجة الوداع وهی (١٢٠) آیة و (١٦) رکوعاً رقمها (٥) تسلسلهاحسب النزول (١١٢) نزلت بعد «الفتح»

د «المآئدة سورت مدنی دی پرته (غیر) له (٣) آیته چه په عرفات په حجة الوداع کښې نازل شوی دی په تلاوت کښې (٥) په نزول کښې (١١٢) سورت دی (١٢٠) آیتونه «١٦» رکوع لری وروسته د «الفتح» له سورت نازل شوی دی

---

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ○

---

شروع کوم، په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَوۡفُواْ بِٱلۡعُقُودِۚ

---

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو!) پوره کړی تاسی ګرد (ټول) عهدونه

---

**تفسیر:** شرعی ایمان د دوه شیانو نوم دی صحیح معرفت، تسلیم او انقیاد یعنی د الله جل جلاله

او د رسول الله صلى الله عليه وسلم ګرد (تول) ارشادات صحيح او صادق وګڼئ! او د هغه تسليم او قبول ته په اخلاص سره غاړه کيږدئ! د دې تسليمي جزء په لحاظ ايمان في الحقيقت د الله جل جلاله د ګردو (تولو) قوانينو او احکامو د منلو او د تولو حقوقو د ادا کولو يو مضبوط عهد او اقرار دى. ګواکې د حق تعالىٰ د کامله ربوبيت هغه اقرار چه د «الست» د عهد په سلسله کښې اخيستى شوى ؤ د هغه ښکاره اثر د انسان په فطرت او خته کښې تر نن پورې شته، او د هغه تجديد او تشريح په شرعي ايمان سره کيږي بيا هغه څه اجمالي عهد او ترون چه په شرعي ايمان کښې ؤ، د هغه پوره تفصيل په قرآن او سنت کښې راښکاره شوى دى په دې صورت کښې د ايمان د دعوى مطلب داسې شو چه «بنده په تولو الهٰى احکامو کښې که د هغه تعلق مستقيماً له الله جل جلاله سره وى، يا له بندګانو سره له جسماني تربيت سره وى، که له روحاني اصلاح سره، له دنيوى مفاده سره وى، که له اخروى فلاح سره، له شخصي ژوند سره وى، که له اجتماعي حيات سره، له روغي سره وى، که له جنګ سره، د دې خبرى عهد کوى په هر دول (طريقه) چه وى زه به له خپل مالک سره وفا کوم نبى کريم صلى الله عليه وسلم هغه عهد او پيمان چه د اسلام، جهاد، سمع، او اطاعت ، يا نورو عمدهؤ خصائلو او خيريهؤ امورو په نسبت د لويو اصحابو څخه د بيعت په شکل اخيستل، هغه د دې ايماني عهد يو محسوس صورت ؤ، او څرنګه چه د ايمان په ضمن کښې بنده ته د الله تعالىٰ د جلال او جبروت صحيح معرفت، او د ده د انتقام او د انصاف شان ، او د مواعيدو صداقت، ښکاره، او ښځي پوره يقين هم پرې حاصل شوى دى او د هغه مقتضاء دا ده، چه ښايي دى د بد عهدى د مهلکو عواقبو څخه وويرېږي او خپل هغه ګرد (تول) مواعيد چه له الله جل جلاله يا له بندګانو يا له خپل نفس سره ئې کړي دي، په داسې دول (طريقه) سره پوره کړى، چه د حقيقي مالک په وفادارى کښې هيڅ فرق رانشي» له هم دى تقرير سره سم د عقودو او مواعيدو په تفسير کښې هغه مختلف شيان چه له اسلافو څخنې منقول دي، هغه تول سره تطبيقيږي ، او په دې آيت کښې د (اى مؤمنانو) د خطاب له لفظ څخه زيات لطف حاصليږي.

---

## أُحِلَّتْ لَكُم بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ

---

### حلال کړى شوى دى تاسې ته (پس له شرعي ذبحې بې ژبې) چارپايان د انعامو (لکه اوښان، غوايان او پسونه)

---

**تفسير:** په (٦) جزء د «النسآء» د سورت په (١٦٠) آيت (٢٢) رکوع کښې مونږ ولوستل چه پر يهودانو باندې د دوى د ظلم او بد عهدى په سزا څينې حلال او طيب شيان حرام، او دوى ترې محروم کړى شوى وو ﴿فَبِظُلْمٍ مِّنَ الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبَاتٍ﴾ چه تفصيل ئې د «الانعام» په سورت کښې راځي. دى مرحومه امت ته د عهدونو له ايفاء له هدايت سره له دى

شیانو ځنې د انتفاع اجازه هم ورکړې شوې ده یعنې اوښ، غوېې پسه، وزه، او له دې جنسه څخه ګرد (ټول) اهلي او وحشي (کورني او ځنګلي) چارپایان لکه هوسې، غش غوېې او نور ستاسې له پاره په هر حالت کښې حلال کړې شوې دي. بې له هغو حیواناتو یا حالاتو چه د هغو په متعلق یا حق تعالیٰ په قرآن عظیم ، یا د خپل نبي کریم صلی الله علیه وسلم په ژبه د ده په احادیثو کښې ستاسې د جسماني یا روحاني یا اخلاقي مصالحو له امله (وجې) ممانعت فرمایلې وې.

---

إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ

---

مګر (حلال نه دي) هغه چه لوستې به شي په تاسې باندې (وروسته له دې نه)

---

**تفسیر:** غالباً له دې څخه مراد هغه شیان دي چه د هم دې سورت په دریم آیت کښې بیان کړې شوي دي یعنې «حرمت علیکم المیتة» څخه نیولې تر «ذلکم فسق» پورې.

---

غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ وَأَنتُمْ حُرُمٌ

---

حال دا چه نه ئې تاسې حلال ګڼونکې د ښکار حال دا چه تاسې احرام تړونکې یئ!،

---

**تفسیر:** د محرم له پاره یوازې د وچې د ساکښانو (ذي روحو) ښکار روا نه دی. او د سیند د ښکار اجازه ورته شته. کله چه د احرام دومره رعایت شوی دی، چه په هغه کښې ښکار کول ممنوع ګرځول شوی دی، نو د حرم شریف د حرمت او عزت لحاظ ښایي له دې نه په درجو زیات وي یعنې د حرم د ساکښانو (ذي روحو) ښکار ته د محرم او غیر محرم د ګردو (ټولو) له پاره حرام وي لکه چه د ﴿ لَا تُحِلُّوا شَعَائِرَ اللَّهِ ﴾ له عمومه څخه معلومیږي.

---

إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ ①

---

بیشکه الله حکم کوي (په تحلیل او تحریم کښې) د هر هغه څه چه اراده وفرمايي

---

**تفسیر:** یعنې هغه الله جل جلاله چه ګرد (ټول) مخلوقات ئې پیدا کړل بیا ئې پخپل حکمت او کمال سره د دوی په منځ کښې د مراتبو فرق ښکاره کړو په هره نوع کښې ئې سم د هغه له

استعداده بیل بیل فطری خواص او قواوی په ودیعت کیښودی، د حیات او د ممات مختلف صورتونه ئی تجویز کړل، بیشکه همغه الله جل جلاله ته پخپلو مخلوقاتو کښی دا حق هم حاصل دی، چه د خپل کامل اختیار، محیط علم ، بالغه حکمت په اقتضاء هر هغه شی چه هر چا ته په هر حالت کښی اراده وفرمایی حلال یا ئی حرام کړی. ﴿ لَا يُسْـَٔلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْـَٔلُونَ ﴾

## يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تُحِلُّوا۟ شَعَـٰٓئِرَ ٱللَّهِ

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو) مه ګڼی حلال (مه بی حرمته کوئ!) شعائر (نښی د دین) د الله (چه د حج مناسک دی)

**تفسیر:** یعنی هغه شیان چه د حق تعالیٰ د عظمت او معبودیت دپاره خاص علامات او نښی مقرری شوی دی د هغوی بی حرمتی مه کوئ! چه دی کښی حرم محترم بیت الله شریف، جمرات، صفا ، مروه ، هدی، احرام، مساجد. آسمانی کتابونه او نور ګرد (تول) حدود او فرائض او دینی احکام شامل دی، وروسته له دی علائمو او نښو څنی د څینو مخصوصو شیانو ذکر فرمایی چه په مناسکو پوری تړلی دی. لکه چه له دی آیت څخه پخوا په بل آیت کښی د محرم څینی احکام ذکر شول.

## وَلَا ٱلشَّهْرَ ٱلْحَرَامَ

او مه (بی عزته کوئ!) میاشتی حرمت والا (په قتال او جدال سره)

**تفسیر:** حرمت والا میاشتی څلور دی لکه چه د «التوبة» د سورت په (٣٦) آیت (٥) رکوع کښی «منها اربعة حرم» مذکور او هغه محرم، رجب، ذی القعده ، ذی الحجه دی. او تعظیم او احترام ئی دا دی چه ښایی په دی میاشتو کښی له نورو میاشتو څنی د نیکی او تقویٰ زیات التزام وکړ شی! او ښایی چه له شر او فساد څخه د ځان ژغورلو (بچ کولو) دپاره ډیر اهتمام وشی! خصوصاً نه ښایی چه حجاج وربروی، یا د بیت الله له حج څخه ئی ستانه (واپس) کړی. اګر که دا امور د کال په دولسو میاشتو کښی واجب العمل دی، مګر بالخصوص په دی محترمو میاشتو کښی ډیر زیات تاکید شوی دی. باقی د اسلام د دښمنانو په مقابل کښی د هجوم او تعرض ممانعت په دی میاشتو کښی اوس نه دی پاتی او دا د جمهورو مذهب دی، لکه ابن جریر رحمة الله علیه په دی باندی اجماع رانقل کړی ده د دی بیان به هم انشاء الله تعالیٰ د «التوبة» په سورت کښی راشی.

## وَلَا الْهَدْيَ وَلَا الْقَلَآئِدَ

او مه (بې حرمته کوئ!) هغه ساکښ (ذی روح) چه د کعبې هدیه وی (بې قلادې او نه هغه «هدیه») چه په غاړه ئې قلادې وی (او د کعبې په لورې بیولې کیږی)

**تفسیر: (قلائد)** د قلاده جمع ده چه له هغې څخه هغه طوق یا هار یا غاړکې یا غروندی مراد دی، چه د «هدی» د حیوان په غاړه کښې د علامې او نښې په دول (طریقه) اچول کیږی څو د «هدی» حیوان پرې وپیژندلی شی او له تعرض څخه مامون وی او لیدونکی ته د هسې عمل د کولو ترغیب هم وشی، قرآن کریم د دی شیانو تعظیم او حرمت باقی پریښود او د «هدی» او د هغې د علائمو او نښو سره تعرض کول ئې ممنوع کړل.

## وَلَآ آٰمِّيْنَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنْ رَّبِّهِمْ وَرِضْوَانًا

او مه (بې عزته کوئ!) قصد کوونکی (ورتلونکی) د کور حرمت والا ته (د حج یا د عمری له پاره) حال دا چه غواړی دوی فضل له(جانبه د) رب خپل او (د ده) خوښی

**تفسیر:** په ظاهر کښې دغه ویاړ (فخر) یوازې د مسلمانانو دی. یعنی هر هغه مخلص مسلمان چه د حج یا د عمری دپاره ځی، د هغه تعظیم او احترام وکړئ! ، او د دوی په لاره کښې ډبری (روړی) مه اچوئ! او ربړ (تکلیف) مه وررسوئ! که هغه مشرکان چه د بیت الله حج ته راتلل هم د دی آیت په عموم کښې داخل شی (ځکه چه هغوی به هم په خپل زعم او عقیده سره سم د الله تعالیٰ د قرب او فضل او خوښی طالبان وو) نو هلته به ویلی کیږی چه دا حکم له هغه وخت څخه پخوا دی چه د ﴿ إِنَّمَا الْمُشْرِكُوْنَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هٰذَا ﴾ منادی کړی شوی وه.

## وَإِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوْا

او کله چه (له احرامه) حلال شوئ پس ښکار کوئ تاسی (که مو خوښه وی)،

**تفسیر:** یعنی د ښکار هغه ممانعت چه د احرام په حالت کښې کړی شوی ؤ ، د احرام له اتمام نه وروسته پاتی نشو.

وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ اَنْ صَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اَنْ تَعْتَدُوْا

او نه دی باعث کړی تاسی دښمنی د یوه قوم (له پاره) د دی چه منعه کړی ده دوی تاسی لره له مسجد حرام څخه په دی چه تاسی به تجاوز وکړئ (پر هغوی په انتقام اخیستلو)

**تفسیر:** (یعني د کافرانو د قوم بغض او دښمنی دی تاسی دی ته اړ (مجبور) او باعث نه کړی چه له خپله حده تیر شئ او د دی تیرو شیانو حرمت ونه ساتئ) هغه شعائر چه په ړومبنی آیت کښی د الله تعالیٰ له خوا لوی او محترم ښودل شوی وو، د مشرکانو له لوری د هجرت په شپږم کال کښی توهین او سپک شول. او رسول الله مبارک نژدی له (۱۵۰۰) اصحابو سره د ذیقعدة الحرام په میاشت کښی محض د عمری د اداء کولو په قصد له مدینی منوری څخه رهی (روان) شول. کله چه «حدیبیی» ته ورسیدل، مشرکانو دوی د دی اسلامی عبادت له اداء کولو څخه منع کړل دوی نه د احرام حالت، او نه د کعبی شریفی د حرمت، او نه د «شهر الحرام» د احترام ، او نه د «قلائد» او نه د «هدی» څه لحاظ او خاطر وکړ. مسلمانانو د «شعائر الله» له دی توهین او د مذهبی فرائضو له دی ممانعت څخه چه د دی ظالم او وحشی قوم له لوری وشو که هر څومره د غیظ او غضب او بغض او عداوت اظهار کړی وی، حق ئی درلود (لرلو) او بی ځایه نه ؤ ، او که د دوی په مقابله کښی د انتقام په څوبش (جوش) کښی له سده وتلی وی او په کوم اقدام باندی ئی لاس پوری کړی وی، هم ښاییدل او ممکن ؤ، لیکن د اسلام محبت او عداوت هم په عدل او انصاف او حقانیت بنا دی، لکه چه قرآن کریم د داسی جابرو او ظالمو دښمنانو په مقابل کښی هم مسلمانانو ته حکم ورکړ «چه خپل جذبات دی تر اداری لاندی ونیسی» ځکه چه انسان د ډیر محبت او زیات عداوت په وخت کښی په څوبش (جوش) راځی ، او د خپل ځان اداره هیڅ نشی کولی او له حده تیری کوی، نو ځکه ئی وفرمائل چه ښایی د خورا(ډیر) سختو دښمنانو عداوت او دښمنی هم تاسی د عدل او انصاف له دائری څخه ونه باسی او د عدل او انصاف واگی مو له لاس څخه خوشی نه شی.
(دغه احکام د «لاتحلوا» څخه دی تر دی ځایه پوری منسوخ دی. بی له ښکار څخه)

وَتَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى وَلَا تَعَاوَنُوْا عَلَى الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ

او مرسته (مدد) کوئ تاسی یو تر بله په نیک کار او تقویٰ (پرهیزگاری)

کښې او مه کوئ تاسې مرستې (مدد) يو تر بله پر ګناه او پر عدوان (ظلم تجاوز)

**تفسير:** که کوم سړي بالفرض د انتقام په څوښ (جوش) کښې راشي او تيرې وکړي نو د هغه د ممانعت تدبير دا دی چه د مسلمانانو جماعت دی نه يوازې له ده سره په هغه ظلم او عدوان کښې مرسته (مدد) ونه کړي، بلکه ګرد (تول) سره دی لاس يو، او د نيکۍ او تقوىٰ مظاهره دی وکړي! او د ده د زيادت او بې اعتدالۍ مخه دی ونيسي!.

وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۖ إِنَّ اللّٰهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿٢﴾

او ويرېږئ تاسې له الله څخه بېشکه چه الله ډير سخت دی عذاب (د ده متخلفينو لره)

**تفسير:** يعنې د حق پرستۍ او انصاف خوښولو او د ګردو (تولو) ښو اخلاقو بيخ د پاک الله څخه ويره ده. او که د الله جل جلاله څنې ويره ، او په نيکۍ کښې تعاون او په بدۍ کښې عدم تعاون نه وي، نو د عمومي عذاب د وقوع انديښنه وه (اعاذنالله منه)! څرنګه چه الله جل جلاله د هغو شيانو د بيان اراده وفرمايله، چه وعده ئې په «الا مايتلىٰ» کښې کړې شوې وه، نو دا آيت نازل شو

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهِ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيحَةُ وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَأَنْ تَسْتَقْسِمُوا بِالْأَزْلَامِ ۚ ذَٰلِكُمْ فِسْقٌ ۗ

حرام کړې شوې دي پر تاسې (خوراک د) مردار (حيوان) او (د بهيدونکې) وينې او د غوښې د خنزير او د هر هغه (حلال کړې شوې حيوان) چه آواز کړې شوې وي بې له (نامه) د الله (د بل شي) په هغه باندې (د ذبحې په وخت کښې) او د خپه کړې شوې او د کوتک (او د نورو) وهلې شوې او د

غورځیدلی (له پاسه ژوری ته) او د ښکیری شوی په وهلو د ښکر او د هغه چه (تری) خوړلی وی ځناورانو مگر (روا دی) هغه چه حلال (یې) کړئ تاسی او (پکښې روح وی) ، او (حرام دی) هغه چه حلال کړی شوی وی (په نامه د کوم ممنوعه ځای یا شی) او دا چه تقسیم وکړئ تاسی په غشو د قمار سره، دغه (تیر محرمات یا تقسیم یا تفاؤل په دی غشو سره گناه او) فسق دی،

---

**تفسیر:** یعنی حرام کړی شوی دی پر تاسی دغه لس شیان

۱. «میتة» یا مرداره چه بی ذبحی مړه شوی وی (بی له ماهی او ملخه) حرامه ده. «میتة» هغه واجب الذبح حیوان ته وایه شی، چه بی له حلالولو په خپل مرگ مړ شی، او وینه او غریزی حرارت ئی په غوښه کښې محتقن او جذب شوی پاتی شی، چه د هغه له سمیت او گندگی ځنی څو راز (قسم) بدنی او دینی ضررونه پیدا کیږی. «ابن کثیر»۔ ښایی د دی تعمیل د تنبیه فرمایلو له امله (وجی) له «میته» څخه وروسته د وینی حرمت ذکر شو، وروسته د حیواناتو د یوی خاصی نوعی د (خنزیر) د تحریم ذکر وشو، چه د هغه بی انتهاء نجاست خوړل ، او زیاته بی حیائی. عمومی شهرت لری، ښایی د هم دی امله (وجی) زمونږ حقه شریعت د وینی په شان (خنزیر) هم (نجس العین) مقرر کړی دی د دغو دری واړو شیانو له ذکر څخه وروسته چه د دوی په وجود کښې مادی خباثت او گندگی موندله کیږی، د بل یو قسم محرماتو ذکر فرمائی یعنی هغه حیوان چه د خپل ذات په اعتبار حلال او طیب وی، مگر له حقیقی مالک او معنوی څیښتن (مالک) جل جلاله څخه ماسواء د بل چا د نذر او نیاز په ډول (طریقه) تاکلی (مقرر) شوی وی نو د هغه خوراک هم د نیت د خباثت او د عقیدی د گندگی له امله (وجی) حرام دی. د کوم ساکښ (ذی روح) او سا یوازی د هغه مالک او خالق په حکم او نامه اخیستله کیږی چه د هغه په حکم او اراده پری موت او حیات راځی. باقی (منخنقه) او نور غیر مذبوحه حیوانات تول د میتی (مرداری) په حکم کښې داخل دی لکه چه د ﴿ وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ ﴾ ﴿ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ ﴾ سره ملحق دی په جاهلیت کښې د دی گردو (تولو) شیانو خوراک معتاد ؤ نو ځکه ئی په داسی تفصیل سره بیان وفرمایه

۲ـ د بهیدونکی وینی خوراک حرام دی لکه چه په (۸) جزء د الانعام په (۱٤٦)آیت (۱۸) رکوع کښې ﴿ دَمًا مَّسْفُوحًا ﴾ راغلی دی.

۳ـ د خنزیر د غوښې خوراک حرام دی او د خنزیر د نورو گردو (تولو) اجزاؤ څخه تر نوکانو او ویښتانو پوری هم هر راز (قسم) انتفاع ناروا دی.

٤ـ د هغه مذبوح خوراک حرام دی چه بی د الله تعالیٰ له نامه څخه د بل چا نوم پری یاد کړی شوی وی.

٥ـ د هغه مړه خوراک حرام دی چه په خپه کیدلو سره ئی روح (سا) ختلی وی.

٦ـ د هغه مړه خوراک حرام دی چه په کوتک یا په غونده تیږه (گته) چا وهلی وی.

۷ـ د هغه مره خوراک حرام دی چه لویدلی وی له غره یا له کمره یا په کوهی کښې.
۸ـ د هغه مره خوراک حرام دی چه بل غوایی په ښکر سره وهلی وی.
۹ـ د هغه مره خوراک حرام دی چه خوړلی وی تری درندګانو څه قدر او بیا ئی روح ختلی وی. (مګر هغه مر له دی پنځو واړو وروستنیو څخه چه ژوندی پاتی وی، او بیا ئی په نامه د الله جل جلاله ذبح کړی نو د هغه خوراک روا دی.)
۱۰) د هغه مره خوراک حرام دی چه په هغو تیږو (ګټو) ذبح کړی شوی وی چه د «کعبی شریفی» نه ګیر چاپیره ولاړی دی او مشرکانو به د تعظیم له پاره پری قربانی کولی یا تری مطلق بتان مراد دی. لږ څه وړاندی د «هدی» د ادب او د احترام ذکر تیر شو. یعنی هغه ساکښ (ذی روح) چه د تقرب الی الله په نیت د واحد خدای له ګردو (تولو) څخه پخوانی معبد مکی معظمی ته د نذر په ډول (طریقه) بیول کیدل او هلته به ذبح کیدل، د هغه په مقابل کښې د هغه ساکښ (ذی روح) ذکر ئی وفرمایه، چه د بل چا په نامه یا د بیت الله څخه ماسواء په بل کوم ځای کښې د بل چا یا د بل ځای د تعظیم دپاره ذبح کیږی.(موضع القرآن) په دی دوهم صورت کښې د نذر نیت هم فی الحقیقت د غیر الله په نامه وی اګر که د ذبحی په وخت کښې له ژبی څخه «بسم الله ، الله اکبر» هم وویل شی. سم له دی تقریر سره د «وماأهل لغیر الله» او د «وما ذبح علی النصب» فرق واضح شو. ابن کثیر رحمة الله علیه
﴿وَأَن تَسْتَقْسِمُوا۟ بِٱلْأَزْلَـٰمِ﴾ = او حرام کړی شوی دی دا چه تقسیم وکړئ تاسی د قمار په غشو سره) ځینی مفسرین د «ازلام» ځنی د تقسیم غشی مرادوی چه د جاهلیت په زمانه کښې د ذبحی غوښی او د نورو تقسیم له پاره استعمالیدل او هغه د قمار (جواری) یو صورت ؤ، لکه چه نن ورځ د کاغذ اچولو (لاتری) رسم دی. لیکن د (حافظ) عمادالدین ابن کثیر رحمة الله علیه» او نورو محققینو په نزد دا خبره راجحه ده چه له «ازلام» څخه هغه غشی مراد دی، چه په هغه سره د مکی معظمی مشرکانو د کوم اشکال او تردد په وخت کښې به د خپلی ارادی او د چاری فیصله او پریکړه پری کوله، دا غشی به ئی په بیت الله کښې د قریشو خورا (دیر) لوی بت (هبل) سره کیښودل. د دی غشو پر ځینو باندی داسی لیکلی شوی ؤ «امرنی ربی»= حکم راکړی دی ماته رب زما». او پر ځینو ئی لیکلی ؤ «نهانی ربی» = منع کړی یم زه رب زما= هم داسی پر هر غشی یوه قیاسی او اتکلی خبره لیکلی شوی وه. کله چه دوی ته په کومه خبره کښې څه تردد او اندیښنه پیښیده. نو دوی به تلل او یو غشی به ئی راخیست که دا «امرنی ربی» والا ، غشی به ئی په لاس ورته ، نو په کار به ئی شروع کوله، او که مخالف له هغه بی ئی په لاس ورته نو له کار ځنی به تښتیدل، وعلیٰ هذاالقیاس ګواکی دا له بتانو ځنی یو راز (قسم) مشوره او استعانت ؤ څرنګه چه د دی رسم بنا پر خالص شرک جهل ، اوهام پرستی ، افترا علی الله وه، نو ځکه (قرآن کریم) په متعددو مواقعو کښې په نهایت تغلیظ او تشدید سره ده هغه حرمت ښکاره کړ.
سم له دی تقریر سره د «ازلام» ذکر له «النصب» سره مناسبت پیدا کړ، او دا ئی له مرداری

وینی او خنزیر او نورو دیرو خبیثو او ګنده ؤ شیانو د تحریم له سلسلې سره منسلک ، او دا ئی راښکاره کړه چه د دوی معنوی او اعتقادی نجاست او خباثت ، د دی شیانو له پلیتی څخنی لږ نه دی. لکه چه په یو بل آیت کښی د «رجس» له اطلاقه څخه دا خبره لا ښه څرګندیږی.

اَلْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ دِيْنِكُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ ط

نن ورځ نااميده شول هغه کسان چه کافران شوی دی له (ابطاله د) دین ستاسی نو مه ویریږئ له دغو (کفارو نه ای مؤمنانو) او وویریږئ له مانه (چه ستاسی خالق یم)

**تفسیر:** دا آیت هغه وخت نازل شو چه د ژوندانه په تولو څانګو او د هدایت د علومو د هری موضوع په متعلق کښی اصول او قواعد داسی ممهد ، او د فروعو او جزئیاتو بیان هم په هومره کافی تفصیل او جامعیت سره منظم شوی ؤ چه د اسلام پیروانو ته تر قیامت پوری د الٰهی قانون څخه ماسوا بل کوم قانون بیخی د منلو او د التفات وړ (مستحق) او لائق نه ؤ پاتی شوی. د نبی کریم علیه وعلیٰ آله و اصحابه افضل الصلوة والتسلیم د تعلیم او تربیی له اثره له الله منونکو ، سر څاروونکو، څان پلورونکو هادیانو او معلمانو څخه داسی عظیم الشان فوځونه جوړ شوی وو چه شمیر ئی له زرګونو نه زیات وو او هر یو د قرآنی تعلیم مجسمه او نمونه وه.
مکه معظمه فتحه شوی وه، اصحاب کرام رضوان الله تعالیٰ علیهم اجمعین سره له کاملی وفا له خپل الله **جل و علا شانه** سره خپل عهد او پیمان پوره کاوه هغه قوم چه د ګنده او پلیتو غذاګانو او د مردارو حیواناتو په خوړلو عادت درلود (لرلو)، له مادی او معنوی طیباتو څخه خوند اخیستی ؤ، د الله جل جلاله د شعائرو احترام په زړونو کښی راسخ او ټینګ شوی ؤ د ګومانونو او اوهامو تارونه او جالونه او د انصابو او ازلامو عقیدی بیخی شلیدلی وی او شیطان د تل له پاره له دی څخه چه په جزیرة العرب کښی ئی عبادت وشی بیخی مایوس شوی ؤ نو نظر دغو حالاتو ته ارشاد وشو ﴿ اَلْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ دِيْنِكُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ ﴾
یعنی نن کفار له دی خبری څخه مایوس کړی شوی دی چه تاسی له خپل قیم دین څخه واړوی او بیا مو د «انصاب» او «ازلام» او نورو په لوری بوځی. یا د اسلامی دین د مغلوبولو توقعات په خپلو زړونو کښی وګرځوی. یا په دینی احکامو کښی د تحریف او تبدیل امیدونه ولری. نن تاسی ته یو کامل او مکمل دین دررسیدلی دی، چه وروسته په هغه کښی د هیڅ یو قسم ترمیم ضرورت او امکان نشته. د الله جل جلاله انعام پر تاسی پوره شوی دی، چه وروسته له دی نه ستاسی له طرفه د هغه د ضائع کیدلو هیڅ اندیښنه نشته. پاک الله تر ابده پوری هم دا د اسلام دین ستاسی دپاره غوره کړی دی، نو ځکه وروسته له دی نه د کوم ناسخ د راتللو احتمال

هم نه دی پاتی په داسی حالاتو کښی تاسی ته هیڅ سبب او دلیل نشته، چه له کفارو څخنی وویریږئ ولی چه کفار تاسی ته هیڅ نقص او تاوان نشی دررسولی. هو! د هغه لوی محسن او حقیقی منعم له قهره او ناراضی ـ څخه تل وویریږئ چه د ده په واک او اختیار کښی ستاسی فلاح او نجاح او گټه (فائده) او زیان دی. گواکی په ﴿ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ ﴾ کښی ئی په دی مطلب تنبیه فرمایلی ده چه وروسته له دی نه مسلمانانو ته د کفارو له لوری تر هغه وخت پوری هیڅ ویره او اندیښنه نه ده پکار، تر څو چه په دوی کښی د الله **جل و علا شانه** ویره، او د تقویٰ شان موجود وی، له «الیوم» څخنی دلته یوه معینه ورځ نه ده مقصود، بلکه حاضره زمانه، او ورپوری متصلی راتلونکی زمانی مقصد دی. او ځینی تری یوم النزول (مرادوی) چه هغه د هجرت د نهم کال د ذالحجی د نهمی نیټی د جمعی او عرفی مازدیگر ؤ چه هغه ته حج اکبر او حجة الوداع هم وائی.

---

## اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ

نن ورځ مکمل (پوره) کړ ما تاسی ته دین ستاسی (اصولاً او فروعاً)

---

**تفسیر:** یعنی د ده په اخبارونو او قصصو کښی پوره صداقت ، او په بیان کښی ئی پوره تاثیر، په قوانینو او احکامو کښی ئی پوره اعتدال شته. هغه حقائق چه په پخوانیو کتابونو او نورو آسمانی ادیانو کښی محدود او ناتمام وو، د هغوی تکمیل او تعمیم هم دی قیم دین سره وکړ شو هغه احکام چه کتاب الله او د رسول الله سنتو د «حل» او «حرمت» او نورو احکامو په نسبت تنصیصاً یا تعلیلاً صادر کړی دی، د هغوی اظهار او ایضاح خو همیشه کیږی لیکن د زیادت یا قلت یا د ترمیم گنجائش پکښی له سره نشته

---

## وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ

او تمام (پوره می کړ پر تاسی (ای مؤمنانو!) نعمت (د دین په اکمال)

---

**تفسیر** له گردو (تولو) څخه لوی احسان خو هم دا دی چه اسلام غوندی یو مکمل او ابدی قانون او د خاتم الا نبیاء صلی الله علیه وسلم په شان یو لوی (نبی) ئی تاسی ته مرحمت فرمایلی دی. برسیره په دی ئی د اطاعت او استقامت توفیق هم دربښلی دی. د روحانی غذاگانو او د دنیوی نعمتونو دسترخوان ئی تاسی ته غوړولی دی. د قرآن کریم د حفاظت او د اسلام غلبی او د عالم د صلاح سامان ئی درمهیا کړی دی.

## وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا

او غوره کړ ما تاسی ته اسلام له جهت د دین (ډیر پاکېزه په تولو ادیانو کښی)،

**تفسير:** یعنی له دی عالمگیر او مکمل دین څخه پرته (علاوه) د بل کوم دین انتظار ایستل بی عقلی او حماقت دی. اسلام، تفویض او تسلیم سره مرادف دی. ما سوا له اسلامه د مقبولیت او نجات بله وسیله او لاره نشته.

**تنبیه:** دغه د ﴿اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ﴾ الآية - آیت نازلول هم د لویو نعمتونو له جملی څخه یو نعمت دی. نو ځکه ځینو یهودانو د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په حضور کښی عرض وکړ «یا امیر المؤمنین!» که دا آیت پر مونږ نازل شوی وی نو مونږ به ئی «یوم النزول» د خپل ځان دپاره اختر گرځولی وی حضرت عمر فاروق رضی الله تعالیٰ عنه وفرمایل «په هغی ورځی کښی چه دا آیت نازل شو پر مونږ مسلمانانو دوه اخترونه سره جمع شوی وو» دا آیت د هجرت په (۹) کال د «حجة الوداع» په موقع د عرفی او جمعی په ورځی د مازیگر په وخت په داسی حالت کښی نازل شو، چه د «عرفات» په میدان کښی د نبی کریم صلی الله علیه و علیٰ آله و صحبه افضل الصلوة والتسلیم د اوښی په چپ چاپېر کښی له (۴۰،۰۰۰) تنو څخه زیات اتقیاء او ابرار رضی الله تعالیٰ عنهم اجمعین سره راټول شوی وو، وروسته له دی نه رسول الله مبارک فقط (۹۱) یا (۸۱) نوری ورځی په دنیا کښی تشریف درلود (لرلو).

## فَمَنِ اضْطُرَّ فِيْ مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّاِثْمٍ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ③

نو هر څوک چه اړ شو (خوراک د حرام شی ته) په سخته لوږه کښی حال دا چه نه وی مائل گناه ته (په خوراک زیات له کفافه یا د لذت له پاره) پس بېشکه الله ښه مغفرت کوونکی دی (د خطیاتو) ډیر رحم والا (چه نه ئی نیسی په دغه خوراک)

**تفسير:** یعنی د حلالو او حرامو قانون خو مکمل شوی دی، اوس په هغه کښی هیڅ دول (طریقه) تغییر او تبدیل نشی کیدی. هو! مضطر چه د لوږی او تندی له شدته بی تابه او ناچاره شوی وی، که حرام شی وخوری، یا ئی وڅښی، او خپل ځان له هلاکت څخه پر وژغوری (وساتی)، په دی شرط چه د ضرورت له مقداره متجاوز نشی، او لذت تری مقصود نه وی (غیر باغ و لا عاد) نو حق تعالیٰ به دا د حرامو تناول په خپل فضل او مهربانی سره ورمعاف کړی. گواکی هغه شی خو همغسی حرام پاتی دی، مگر هغه سړی چه د دی حرامو خوړونکی او څښونکی وی، د

الله تعالیٰ په نزد مجرم نه ګڼانه کېږي دا هم د نعمت د اتمام یوه نوعه ده.

يَسْـَٔلُونَكَ مَاذَآ أُحِلَّ لَهُمْ ۖ قُلْ أُحِلَّ لَكُمُ ٱلطَّيِّبَـٰتُ ۙ

پوښتنه کوي دوی له تانه (ای محمده!) چه کوم شي حلال کړی شوي دي دوی ته؟ ووایه حلال کړی شوي دي تاسي ته طیبات (پاک شیان)

**تفسیر:** په پړومبی آیت کښي د حرامو شیانو بیان وشو. نو په طبیعي ډول (طریقه) سره داسي یو سؤال پیدا کېږي، چه حلال شیان کوم کوم دي؟ نو ځواب ئې ورکړ شو ، چه د حلالو دائره خو ډیره وسیعه ده ، هغه شیان پرېږدي چه به هغو کښي دیني یا بدني نقصانونه دي، نور د دنیا ګرد (ټول) پاکیزه او ستره شیان حلال دي. څرنګه چه د ښکاري ساکښانو (ذي روحو) په نسبت ځینو خلقو په خصوصیت سره پوښتني کړي وې، نو ځکه د دې آیت په راتلونکي برخه کښي ئې د هغه څه تفصیلات هم راښولي دي.

وَمَا عَلَّمْتُم مِّنَ ٱلْجَوَارِحِ مُكَلِّبِينَ تُعَلِّمُونَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ ٱللَّهُ ۖ فَكُلُوا۟ مِمَّآ أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ وَٱذْكُرُوا۟ ٱسْمَ ٱللَّهِ عَلَيْهِ ۖ

او (حلال کړی شوي دي تاسو ته ښکار د) هغه چه ښوونه کړي وي ورته تاسي له (ټولو اقسامو) ښکار کوونکو (حیواناتو یا مرغانو) څخه چه ښوونه کوونکي اوسئ تاسي (په ښکار ځغلولو د دوی) چه ښوونه وکړئ تاسي ورته له هغه نه چه ښوولي دي تاسي ته الله پس خورئ تاسي له هغه ښکاره چه نیولي وي تاسي ته (له انعامو او طیورو نه) او یادوئ تاسي نوم د الله په هغه (ښکاري حیوان کله چه ښکار ته ئې لېږئ !(یا) او یادوئ تاسي نوم د الله په (حلالولو د) هغه (ښکار کښي که ژوندي مو مینده کړ).

**تفسیر:** د ښکاري سپي او باز او نورو ښکار کوونکو ساکښانو (ذي روحو) ښکار په دې شرطونو سره حلال دي

۱. د ښکار کوونکو ساکښ (ذي روح) ښه روږدي (عادت) کول، چه تعلیم ئې موندلی وي.

۲. پر ښکار باندي خوښي کړ شي.

۳. په همغه طریقه سره تعلیم ورکړی شوي وي، چه په شریعت کښي د اعتبار وړ (لائق) وي یعني سپي او نورو ته داسي تعلیم ورکړی شوي وي. چه ښکار ونیسي، او همغسي ئې خپل خاوند ته

وروړی، او وئی نه خوری، او باز ته داسی تعلیم ورکړی شوی وی، چه د بلنی په وخت کښی خپل خاوند او بلونکی ته ژر بیرته ورشی که سپی ښکار په خپله وخوری یا باز چه په بلنه سره بیرته رانشی، نو داسی فهمیږی کله چه دوی د خپل خاوند په بلنه بیرته نه راځی او د ده په خوله نه کیږی نو هغه ښکار هم د خپل خاوند دپاره نه، بلکه خپلو ځانونو ته ئی کړی دی حضرت شاه صاحب د هم دی په نسبت لیکلی دی «کله چه هغه د بنیادم څخه خوی زده کړی دی، نو ګواکی بنیادم هغه ښکار ذبح کړی دی.»

٤ـ د خوشی کولو په وخت کښی د الله تعالیٰ نوم یاد کړ شی! یعنی بسم الله ووایی! او ورخوشی ئی کړی، د دی څلورو واړو شرطونو تصریح خو په قرآنی نص کښی شوی ده.

٥ـ شرط چه زمونږ امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په نزد معتبر دی هغه دی چه ښکاری ساکښ (ذی روح) هغه ښکار داسی زخمی کړی، چه تری وینه وبهیږی د دی په لوری د (جوارح) لفظ د خپل (جرح) د مادی په اعتبار مشعر دی که له دی شرطونو څخنی یو شرط هم مفقود شی ، نو هغه ښکار چه ښکاری ساکښ (ذی روح) وژلی وی حرام دی. هو! که مړ شوی نه وی او ذبح کړ شی. نو د ﴿وَمَآ اَكَلَ السَّبُعُ اِلَّا مَاذَكَّيۡتُمۡ﴾ په قاعدی سره به حلالیږی.

---

وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيۡعُ الۡحِسَابِ ۝

---

او ویریږئ تاسی له الله بیشکه چه الله ډیر چابک دی حساب (د ده چه ډیر ژر د ګردو (تولو) مخلوقاتو حساب خلاصوی)

---

**تفسیر:** یعنی په هر حالت کښی له الله تعالیٰ څخه وویریږئ! چه چیری د «طیبات» په استعمال او د ښکار او د نورو شیانو د منتفع کیدلو په وخت کښی له شرعی حدودو څخه متجاوز نشئ! ځکه چه عموماً بنیادم په دنیوی لذاتو کښی ډوب او په ښکار او نورو مشاغلو کښی مشغول او بوخت (لګیا) او له الله جل جلاله او آخرت څخه غافلیږی نو ځکه د تنبیه ضرورت پیدا شو چه الله تعالیٰ له یاده مه باسئ! او د حساب ورځ مه هیروئ! چه ژر رسیدونکی ده. د الله تعالیٰ انعامات او ستاسی د شکر ګزاری موازنه او د عزیز عمر د یوی یوی شیبی (ساعت) حساب هم کیدونکی دی.

---

اَلۡيَوۡمَ اُحِلَّ لَـكُمُ الطَّيِّبٰتُ ؕ وَطَعَامُ الَّذِيۡنَ اُوۡتُوا الۡـكِتٰبَ حِلٌّ لَّـكُمۡ وَطَعَامُكُمۡ حِلٌّ لَّهُمۡ وَالۡمُحۡصَنٰتُ مِنَ الۡمُؤۡمِنٰتِ وَالۡمُحۡصَنٰتُ

مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ إِذَآ اٰتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ مُحْصِنِينَ غَيْرَ مُسٰفِحِينَ وَلَا مُتَّخِذِيٓ أَخْدَانٍ ۗ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِالْإِيمَانِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ ۥ وَهُوَ فِي الْاٰخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِينَ ﴿٥﴾

نن ورځ حلال کړی شوی دی تاسی ته ټول طیبات (پاکیزه شیان) او (هر قسم) طعام د هغو کسانو چه ورکړی شوی دی دوی ته کتاب حلال دی تاسی ته او (هر قسم) طعام ستاسی حلال دی دوی ته او (حلالی دی تاسی ته بی میره - بی خاوند) پاک لمنی اصیلی ښځی له مومنانو ښځو ځخه او پاک لمنی (بی میره - بی خاوند) اصیلی ښځی له هغو کسانو چه ورکړی شوی دی دوی ته کتاب له تاسی په خوا کله چه ورکړی دغو (ښځو) ته مهرونه د دوی (ای میړونو (خاوندانو) د نکاح د قید راوړلو له پاره) حال دا چه نکاح کوونکی یئ تاسی نه زنا کوونکی (ښکاره) او نه نیوونکی د یارانو (په پټه سره)، او هر څوک چه کافر (منکر) شو په ایمان (او مؤمن به شیانو) پس په تحقیق ضائع (باطل) شو عمل د ده او دی به آخرت کښی له زیانکارانو ځنی وی.

**تفسیر:** لکه چه نن کامل دین تاسی ته درکړی شوی دی، د دنیا ګرد (ټول) طیبات او پاکیزه نعمتونه هم ستاسی دپاره تل ترتله داسی حلال کړی شوی دی چه له سره به نه منسوخیږی دلته له «طعام» ځنی مراد «ذبیحه» ده یعنی که کوم یهودی یا نصرانی (په دی شرط چه وروسته د اسلام له ارتداده یهودی یا نصرانی نه وی پاتی شوی) که د حلال ساکښ (ذی روح) د حلالولو په وخت کښی د غیر الله نوم وا نه خلی. نو د هغه خوراک مسلمان ته حلال دی. د مرتد احکام بېل دی. په دی مقام کښی د ﴿وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْ﴾ ذکر د مجازاتو او مکافاتو په دول (طریقه) استطراداً وفرمایه. یعنی هغه چه په ځینو احادیثو کښی راغلی **لایاکل طعامک الا تقی** و دی نه خوری خوراک ستا مګر پرهیزګار» د هغه مطلب داسی نه دی. چه پرته (علاوه) له پرهیزګارانو نورو ته ستاسی خواړه حرام دی. کله چه مسلمان ته د کتابی کافر د ذبحی اجازه وشوه، نو د یوه موحد مسلم ذبیحه او خواړه به نورو ته ولی حرام وی؟ د (والمحصنٰت= پاک لمنی) دغه استحبابی قید ښائی چه له ترغیب له پاره وی. یعنی یوه مسلمان ته ښائی چه د نکاح کولو په وخت کښی ړومبی د ښځی عفت - او پاکلمنی او عصمت ته وګوری. او دا مطلب ئی نه دی چه

پرته (علاوه) له پاکلمنی ځنی د بل چا سره نکاح نه ترله کیږی.
د کتابیانو له یوه مخصوص حکم سره ئی بل مخصوص حکم هم بیان کړ. یعنی له کتابی ښځی سره نکاح ترل په شریعت کښی جائز ، او له مشرکی سره ناروا دی، لکه چه په دوهم جزء د البقرة په (۲۲۱) آیت ۲۷ رکوع کښی مو ﴿ وَلَا تَنكِحُوا الْمُشْرِكَاتِ حَتَّىٰ يُؤْمِنَّ ﴾ ولوست ، مګر دا خبره په یاد ولرئ چه زمونږ په زمانه کښی «نصاریٰ» عموماً په نامه «نصاریٰ» پاتی دی په دی نصرانیانو کښی زیاتره داسی کسان دی، چه نه پر کوم آسمانی کتاب قائلان دی ، نه الله جل جلاله منی، نه رسول، نه مذهب لری، نو ځکه د اهل کتابو اطلاق پر دوی نه شی کیدی. لهٰذا د دوی په مذبوحو او ښځو باندی هغه احکام نه مرتب کیږی، چه د حقیقی کتابیانو په ذبائحو او ښځو مرتب دی. دا خبره دی هم په نظر کښی وی! چه د یوه شی د حلالیدلو دا معنی ده ، چه پکښی فی حد ذاته د تحریم کومه وجه نه وی، لیکن که خارجی اثرات او حالات داسی وی، چه له هغه حلال شی څخه په ګټه (فائده) اخیستلو کښی د ډیرو محرماتو ارتکاب واقع کیږی بلکه په کفر کښی د مبتلا کیدلو احتمال هم وی، نو له هسی حلال شی ځنی د ګټی (فائدی) اخیستلو اجازه نه ورکوله کیږی په موجوده زمانه کښی له یهودو او نصاراؤ سره خوړل او څښل ، او بی له ضرورته اختلاط او ګډون کول او د دوی د ښځو په جال کښی ځان بندول، هسی خطرناک او ویروونکی نتائج لری، چه هغه د هیچا له نظره پټ نه دی. نو د داسی بدی. او بی دینی له اسبابو، او ذرائعو څخه هرومرو (خامخا) اجتناب په کار دی!
ګواکی په دغه آیت کښی دی لوری ته اشاره شوی ده چه نکاح یو ظاهری قید دی لیکن دا قید له هغو آزادیو او هوس چلولو څخه بهتر دی چه د هغه په طلب کښی د ښاروی په څیر انسانان د ازدواج سلسله له ستنه او بیخه باسی او بیخی ئی فنا او معدوم کول غواړی.
همغسی چه ړومبی ئی د ښځی د پاک لمنی ذکر وفرمایه دلته نارینه ته هم هدایت فرمایی چه پاک او عفیف دی اوسی! څو د هغو ﴿ وَالطَّيِّبَاتُ لِلطَّيِّبِينَ وَالطَّيِّبُونَ لِلطَّيِّبَاتِ ﴾ مصداق شی چه په (۱۸) جزء د «النور» په (۲٦) آیت (۳) رکوع په آخره کښی مذکور دی. له دغه احصان او پاک لمنی او ښه انسانی ژوندون له توصیی څخه دا هم معلومه شوه چه د الله تعالیٰ په نزد د نکاح غرض د بشری عصمت د جوهر حفاظت او د انسانی عفت د مرغلری صیانت دی څو چه د تزویج مقصد پوره او د اجتماعی ضروریاتو سلسله منظمه او تکمیل شی. او یوازی شهوت پرستی او هوا او هوس تری مقصود نه دی له کتابیانو ښځو سره چه د نکاح ترلو اجازه شوی ده د هغه فائده ښایی دا وی چه د مؤمن حقانیت او اسلامی اخلاق د ښځی په زړه کښی ځای ونیسی داسی نه چه مؤمن پر هغو کتابیانو هسی مین او مفتون شی چه بالعکس خپله ایمانی متاع له لاسه وباسی او په سپیره ډاګ میدان کښی کینی او د ﴿ خَسِرَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةَ ﴾ مصداق شی. کله چه له کافری ښځی سره د دی فتنی احتمال قوی کیدی شی، نو ځکه د ﴿ وَمَن يَكْفُرْ بِالْإِيمَانِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ ﴾ تحدید خورا (ډیر) مناسب او پر خپل ځای کښی دی. دا زما خیال دی باقی حضرت شاه صاحب وائی «اهل کتاب ئی له کفارو ځنی په دوه حکمو کښی

مخصوص کړل چه دا یوازې په دنیا کښې دی او په آخرت کښې د هر کافر حال خراب دی، اګر که نیک عمل ئې هم کړی وی خو هغه نه قبلیږی.

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ ۚ

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو!) کله چه پاڅیږئ تاسی لمانځه ته (او بې اوداسه یئ) نو وویڅئ تاسی مخونه خپل او لاسونه خپل تر څنګلو پورې (سره له څنګلو) او مسح وکړئ تاسی په سرونو خپلو او (وویڅئ تاسی) پښې خپلې تر پړکیو پورې (سره له پړکیو)،

**تفسیر:** هغه عظیم الشان احسان چه په محمدی امت باندې شوی دی د هغو د بیاناتو له آورېدلو څخه وروسته د یوه شریف او حق پیژندونکی مؤمن زړه د شکرګزارۍ او وفادارۍ. له اظهاره او جذباتو څخه ډکیږی او په فطری ډول (طریقه) دا غواړی چه د هغه حقیقی منعم په لوی دربار کښې لاس په نامه حاضر شی، او د عجز او نیاز وچولی (تندی) پر ځمکه ورته کیږدی او د خپل انتهایی عبودیت او د عبودیت د امتثال عملی ثبوت وروړاندی کړی، نو ځکه د الله جل جلاله له جانبه ارشاد وشو کله چه تاسی اراده لرئ چه زمونږ پاک دربار ته راحاضر شئ! یعنی لمانځه ته پاځیږی نو خپل ځانونه پاک او صاف کړئ ! او بیا راشئ! د اوداسه له دی آیت څخه پخوا د هغو دنیوی لذائذو او طبعی مرغوباتو ځنی د تمتع اجازه چه په ړومبی آیت کښې ورکړی شوی ده (یعنی طیبات او محصنات) دغه شیان تر یوه حده پورې انسان له ملکوتی صفاتو څخه لرې او بهیمی لوازمو سره نژدې کوونکی دی او تول احداث (د اوداسه او غسل موجبات) د هم دوی له استعماله د لازمی نتیجی په ډول (طریقه) پیدا کیږی نو ځکه ئې وفرمایل کله چه له نفسانی مرغوباتو څخه راګرځئ ! او زمونږ د دربار په لورې د راتلو قصد کوئ! نو ړومبی د بهیمیت له اثراتو او له «اکل» او له «شرب» او له نورو مکدراتو څخه چه ستاسی په وجود کښې پیدا کیږی پاک او ستره شئ! دا پاکی له اوداسه او غسل څخه مینځ ته راځی نه یوازې دا چه په اوداسه سره د مؤمن بدن پاک او صاف کیږی بلکه څه وخت چه مؤمن سم د فقهی د کتابونو له ښوونی سره په اخلاص اودس کوی نو د اوداسه د اوبو له څاڅکو سره د ده ګناهونه هم لرې کیږی.

﴿ إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ ﴾ کله چه پاڅیږئ تاسی لمانځه ته یعنی که له خوبه پاڅیږئ یا دنیوی مشاغلو ځنی لاس وباسئ او لمانځه ته ولاړ شی، نو ړومبی اودس وکړئ! لیکن اودس کول هلته ضرور دی

چه سرې اودس ونه لري د دې آيت په آخر کښې د دې احکامونو هغه غرض او غايي شخه چه په ﴿ وَلٰكِنْ يُّرِيْدُ لِيُطَهِّرَكُمْ ﴾ کښې فرمايلې شوی دی معلوميږي چه د لاسونو، خولې، او نورو اعضاؤ د وينځلو وجوب د دې دپاره دی چه حق تعالىٰ تاسي پاک کړي او په خپل دربار کښې تاسي ته ځای درکړي نو که دا پاکي لا له پخوا شخه حاصله وي او د اوداسه کوم ماتوونکی شی په مينځ کښې پيښ شوی نه وي نو د پاکو اندامونو د بيا پاکولو هيڅ ضرورت نيشته بلکه د هغه په ضروري کولو سره په «امت» باندې حرج پيښيږي چه د هغه نفي په ﴿ مَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِّنْ حَرَجٍ ﴾ کښې کړې شوې ده. هو! که زيات نظافت ، نورانيت او نشاط حاصلولو دپاره نوی اودس وکړې شي نو مستحب دی، ښايي د هم دې له امله (وجې) په ﴿ إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ ﴾ کښې د کلام سياق داسي ايښود شوی وي چه له هغه شخه هر ځلې د لمانځه د تللو دپاره په هر وخت کښې د نوي اوداسه کولو ترغيب کيږي.

﴿ وَامْسَحُوْا بِرُءُوْسِكُمْ ﴾ او مسح وکړئ تاسي په سرونو خپلو» يعني لوند لاس پر سر باندې راکاږئ! له نبي کريم صلى الله عليه وسلم شخه په تول عمر کښې د ناصيې له مقداره لږ مسح نه ثابتيږي د ناصيې مقدار د سر د شلورمي برخي اندازې ته نژدې ده. مونږ حنفيان هم دې قدر «مسحي» ته فرض وايو، د نورو اختلافاتو او د دلائلو د تفصيلاتو د تحرير دا موقع نه ده.

﴿ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ ﴾ او ووينځئ تاسي پښې خپلې تر پړکيو پورې» شيخ الهند پخوا له پښو شخه د (به) د لفظ د نه ليکلو سره يوه نهايته لطيفه اشاره وکړه چه د «ارجلکم» معطوف عليه مغسولات دي. يعني همغسې چه د مخ او د لاسونو د وينځلو حکم دی پښې دې هم تر پړکيو پورې ووينځلې شي او د سر غوندې مسح ورته کافي نه ده لکه چه زمونږ «اهل السنت والجماعة» پرې اجماع کړې ده او له ډيرو احاديثو شخه هم دا ثابته شوې ده چه که په پښو موزې نه وي نو وينځل ئې فرض دي. (مګر پر بوټونو) او موزو سم له هغو شرائطو چه په فقهي کتابونو کښې مذکور دي مقيم لره يوه شپه او ورځ او مسافر لره تر درې شپو او ورځو پورې مسح کول هم روا دي.)

---

## وَإِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوْا ۚ

---

او که وئ تاسي جنبان (يعني په جنابت کښې) نو ښه ځان پاک کړئ!

---

**تفسير:** يعني له جنابت ځنې د پاکيدلو دپاره يوازې د هم دې شلورو واړو اعضاؤ وينځل او مسح کول کافي نه دي بلکه د بدن ټولې سطحې ته تر هغو ځايونو پورې چه د اوبو رسونه ورته بې له ضرره ممکن وي د اوبو رسونه ضروري ده د هم دې له امله (وجې) مونږ احناف په غسل کښې مضمضه او استنشاق هم فرض بولو. يعني په غسل کښې د خولې او پوزې وينځل ضروري ګڼو. حال دا چه په اوداسه کښې د هغو وينځل فرض نه بلکه سنت دي.

وَإِنْ كُنْتُمْ مَّرْضَىٰٓ أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوْ جَآءَ أَحَدٌ مِّنْكُمْ مِّنَ الْغَآئِطِ أَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ فَلَمْ تَجِدُوْا مَآءً فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوْا بِوُجُوْهِكُمْ وَأَيْدِيْكُمْ مِّنْهُ ط

او که وئ تاسی مریضان (رنځوران او اوبه درته مضری وی) یا په سفر «کښی وئ» یا راغی یو له تاسی له ځایه د بولو ځخه (یعنی بی اودسه شوئ) یا جماع وکړئ تاسی له ښځو سره نو ونه مومئ تاسی اوبه نو قصد وکړئ تاسی د خاوری پاکی نو (ووهی لاسونه دوه ځلی پر ځمکه او) ومښئ تاسی (دا لاسونه) په مخونو خپلو او لاسونو خپلو له هغی (خاوری) ځخه،

**تفسیر:** یعنی که تاسی ته د مرض له سببه د اوبو استعمال مضر وی، یا اوبو ته ورتلی نشئ! یا په مسافری کښی د کفایت په اندازه اوبه ونه مومئ! یا مثلاً ځوک د حاجت له قضاء ځخه راشی او اودس کولو ته ئی ضرورت پیښ شی یا د جنابت له وجی د غسل حاجت ورته پیښ شی، مګر له کومی وجی د اوبو په حصول یا استعمال قادر نه وی (یعنی یا تری یوه کروه لری وی یا د دښمن یا د غلو یا د لیوانو ویره وی یا د کوهی بوکه او رسئ. نه وی یا اوبه خرڅیږی او پیسی نه وی، نو په دی صورتونو کښی د اوداسه یا د غسل په ځای دی تیمم وکړی) د اوداسه او غسل په تیمم کښی هیڅ فرق نشته، ځکه د تیمم له مشروعیت ځخه چه کوم غرض دی هغه په هر صورت کښی په یو شان حاصلیږی د تیمم اسرار او مسائل او د دی آیت تفسیر په (٥) جزء د النسآء په (٤٣) آیت (٧) رکوع کښی مفصل بیان شوی دی.

**تنبیه:** د ﴿ اَوْلٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ ﴾ ترجمه چه په جماع سره شوی ده، د ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه او ابو موسیٰ اشعری رضی الله تعالیٰ عنه له تفسیر سره موافقه ده. چه ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه هم هغه سکوتاً منلی ده. (کمافی البخاری) مغفور شیخ الهند د ﴿ فَتَيَمَّمُوْا ﴾ په ترجمه کښی د «قصد وکړئ!» په ویلو سره دی ته اشاره کړی ده چه د اصلی لغت په اعتبار د تیمم په معنی کښی قصد معتبر دی او هم دی لغوی معنی په مناسبت په شرعی تیمم کښی هم قصد یعنی د علماؤ له خوا نیت فرض او ضروری امر ګڼلی شوی دی.

مَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِّنْ حَرَجٍ

اراده نه لری الله (د تطهیر په دی تکلیف کښی پر تاسی دا) چه مقرر کړی

پر تاسی څه حرج (تنګوالی یا سختی)

**تفسير:** ځکه په هغو احداثو او بی اودسیو کښی چه کثیر الوقوع دی، د ګرد بدن وینځل ئی ضروری ونه فرمایل ، او یوازی د لاسونو، مخ، پښو وینځل او د سر مسح کول ئی فرض کړل ځکه چه د اکثرو متمدنو هیوادونو اوسیدونکی د دغو اندامونو په بربنډ پرېښودلو کښی هیڅ اندیښنه او مضائقه نه کوی تر څو له هغوی څخنی کومه تنګی او دقت پیښ نشی. هوا د «حدث اکبر» یعنی «جنابت» د ازالی دپاره چه کله کله پیښیږی ، او په دغه حالت کښی د نفس وینښول او د ملکوتی صفاتو په لوری د هغه څوځول یوی فوق العاده تنبیه ته ضرورت لری نو د ګرد(تول) بدن وینځل ئی فرض کړل. بیا ئی په «مرض» او په «سفر» او نورو حالاتو کښی لږ څه آسانی وفرمایله اول ئی د اوبو په ځای «خاوره» مطهره پاک کوونکی وګرځوله او بل ئی د اوداسه په اعضاؤ کښی تخفیف وکړ یعنی د سر مسح ئی بیخی ساقطه کړه، او ښائی چه د پښو مسح ئی د دی له امله (وجی) ساقطه کړی وی، چه پښی عموماً په خاورو کښی یا خاورو ته نژدی وی، او د بدن د ګردو (تولو) اعضاؤ په نسبت په ګرد او غبار سره د پښو ککړیدل ډیر زیات وی، نو پر پښو باندی په خاورو سپیره لاس تیرول، تحصیل د حاصل دی. پاتی شوی دوه عضوی لاس ـ او مخ چه د هغو په مسح کولو سره د اوداسه، غسل د دواړو تیمم کیږی.

وَلٰكِنۡ يُّرِيۡدُ لِيُطَهِّرَكُمۡ وَلِيُتِمَّ نِعۡمَتَهٗ عَلَيۡكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُوۡنَ ۝٦

او لیکن اراده لری (الله د دی) چه پاک کړی تاسی (له صوری او معنوی پلیتی نه) او د دی لپاره چه پوره کړی «الله» نعمت (احسان) خپل پر تاسی (په اسلام او د شرائعو په بیان) له پاره د دی چه تاسی شکر ګزار شئ!.

**تفسير:** ځکه چه الله جل جلاله په خپله پاک دی او پاکی خوښوی (نو ځکه ئی په عبادت کښی چه د تقرب سبب دی، پاکی شرط کړی ده) په رومبنی رکوع کښی د هغو لویو نعمتونو بیان شوی ؤ چه د هغو له اوریدلو څخنی د بنده په زړه کښی څوښ (جوش) پیدا کیږی چه د هغه حقیقی منعم بندګی ته فوراً قیام وکړی نو همغه ئی وروښوده ای مؤمنانو! کله چه زمونږ په لوری راځئ! نو په کومی طریقی سره به خپل ځانونه پاکوئ!؟ او راځئ به!؟ دا ښوونه هم فی حد ذاته یو نعمت دی او په ظاهری بدن باندی له اوبو تیرولو یا په خاورو سره له مسح کولو څخه بنده ته باطنی پاکی ورکول بل نعمت دی، بنده لا د رومبنیو نعمتونو شکر نه ؤ اداء کړی، او د هغو د شکر د اداء کولو په قصد ؤ ، چه په دی نویو نعمتونو فائض شو، نو ځکه ارشاد وشو ﴿لَعَلَّكُمۡ

تَشۡكُرُونَ ﴾ يعنى د پخوانيو نعمتو له يادولو څخه پخوا د دى جديدو نعمتونو شكر ښائى اداء كړئ اچه د اوداسه د احكامو په ضمن كښې پر تاسى شوى دى. ښائى د هم دى ﴿ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴾ څخه حضرت بلال د «تحية الوضوء» سراغ لګولى وى. د دى منځنى نعمت په شكريه باندى د متوجه كولو څخه وروسته د ړومبنى آيت د هغو پخوانيو نعمتونو او لويو احسانونو ذكر اجمالاً بيا را په يادوى، چه د هغو د شكرګزارى له پاره ښائى چه بنده د خپل مولىٰ په حضور كښې ودريږى لكه چه داسى فرمائى

وَاذۡكُرُوا نِعۡمَةَ اللّٰهِ عَلَيۡكُمۡ وَمِيۡثَاقَهُ الَّذِىۡ وَاثَقَكُمۡ بِهٖۤ ۙ اِذۡ قُلۡتُمۡ سَمِعۡنَا وَاَطَعۡنَا ۡ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيۡمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوۡرِ ۝

او ياد كړئ تاسى نعمت (احسان، رحمت) د الله پر تاسى (چه اسلام دى) او (ياد كړئ) عهد محكم د الله هغه (عهد) چه محكموالى كړى دى (الله) له تاسى سره په هغه سره كله چه وويل تاسى واوريده مونږ (وينا ستا) او ومو منه (فرمان ستا) او وويريږئ له الله (په هيرولو د نعمت او ماتولو د بيعت كښې) بيشكه چه الله ښه عالم دى په خبرو د سينو (او په حالاتو د زړونو هم)

**تفسير:** غالباً دا همغه عهد دى چه په «٣» جزء د «البقرة» په خاتمه په (٢٨٥) آيت ٤٠ ركوع كښې ئى د مؤمنانو له ژبى څخه نقل فرمايلى ۋ، ﴿ وَقَالُوا سَمِعۡنَا وَاَطَعۡنَا غُفۡرَانَكَ رَبَّنَا وَاِلَيۡكَ الۡمَصِيۡرُ ﴾ كله چه اصحاب كرام رضى الله تعالىٰ عنهم د محمد صلى الله عليه وسلم پر مبارک لاس بيعت كاوه، په دى وخت كښې ئى هم داسى اقرار كاوه، چه «مونږ له خپل توان سره سم ستاسى هره خبره اورو. او منو ئى برابره ده چه هغه څمونږ له طبيعت سره موافقه وى او كه مخالفه.» دا خو عمومى عهد ۋ وروسته له دى اسلام د ځينو اركانو له حاله سره مناسب د خپلو نورو اهمو شيانو په نسبت خصوصى عهد هم له دوى څنى اخيست كيده. ګواكى د (الانعام) د سورت په شروع كښې چه ﴿ اَوۡفُوۡا بِالۡعُقُوۡدِ ﴾ ئى فرمايلى ۋ. ورسته له هغه د زياتو احساناتو ذكر ئى وفرمايه، چه د هغو له اوريدلو څخه د ايفاء بالعهد لا ترغيب كيږى. بيا ئى همغه اصلى سبق را په ياد كړ. (ځينى وائى چه له دغه عهد څخه د ليلة العقبه يا بيعة الرضوان عهد مراد دى.)

يو شريف او حيادار سړى بايد د خپل لوى منعم په مخ كښې سر ښكته كړى ! د مروت او شرافت او د راتلونكو زمانو د مزيدو احساناتو توقع او اقتضاء هم داسى ده چه بنده دى د حقيقى منعم د فرمان بيخى تابع شى، خصوصاً چه په خپله ژبه ئى د اطاعت او وفادارى پوخ عهد او اقرار هم كړى وى. امكان لرى چه سړى د الله تعالىٰ د زياتى مهربانى له ليدلو څخه مغرور شى، او د الله

تعالیٰ د دی نعمتونو قدر او د خپل قول او اقرار څه پروا ونه کړی نو ځکه ئی وفرمایل« تل له الله تعالیٰ څخه وویریږئ!» چه هغه د سترګو په رپ کښی دغه کرد (ټول) نعمتونه له تاسی څخه بیرته اخیستی شی ـ او د ناشکری ـ او بد عهدی ـ په سزا کښی دېره نیونه او پوښتنه هم کولی شی. په هر حال د مروت ، د شرافت ، د امید ، د خوف او د هر شی تقاضاء هم دا ده چه مونږ د الله تعالیٰ په مخلصانه اطاعت او وفا کښی خپل پوره چمتووالی (بیداری) او تیاری څرګند کړو ځکه چه پاک الله علیم بذات الصدور دی مونږ هر څه چه کوو دی زمونږ په اخلاص یا نفاق او ریاء یا د زړه په نیاز باندی په ښه ډول (طریقه) پوهیږی یوازی د ژبی په دی تشه وینا سره چه ﴿ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ﴾ وواېو نو په دغه رسمی او ظاهری نمایش او شکر ایستلو سره مونږ الله جل جلاله نشو خطا ایستلی.

## يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ كُونُوا۟ قَوَّٰمِينَ لِلَّهِ شُهَدَآءَ بِٱلْقِسْطِ ۖ

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو!) اوسئ تاسی محکم ولاړ (په حق باندی) له پاره د الله (اوسئ تاسی!) شاهدان په قسط (عدل او انصاف) سره

**تفسیر:** له دی نه پخوا ئی په ړومبنی آیت کښی مؤمنانو ته د حق تعالیٰ د احساناتو او د دوی د عهد او د پیمان د یادولو حکم راکړی ؤ. دلته دا راښیی چه یوازی په ژبه سره ئی یادول نه دی په کار. بلکه په عملی رنګ له دوی ځنی د هغو ثبوت مطلوب دی، په دی آیت کښی په دی باندی تنبیه ورکړی شوی ده. که تاسی د الله تعالیٰ بیحسابه احسانات او خپل عهد او اقرار نه دی هیر کړی، نو لازم دی چه د هغه حقیقی محسن د حقوقو په اداء کولو کښی خپل عهد رښتیا کړئ ! او د هغه ریښتین عهد ایفاء او د هغه عملی ثبوت ورښولو ته هر وقت ملاتړلی اوسئ او هر کله چه کم حکم د دی حقیقی منعم او مالک جل جلاله له پلوه تاسی ته درورسیږی فوراً د ده د حکم د تعمیل له پاره ولاړ شئ! او د الله تعالیٰ د حقوقو له اداء کولو سره، د مخلوقاتو د حقوقو په اداء کولو کښی هم پوره جداوجهد او اهتمام وکړئ ! لکه چه په «قوامین لله» کښی د حقوق الله او په «شهداء بالقسط» کښی د حقوق العباد په لوری اشاره ده. هم داسی یو آیت په (٥) جزء د «النسآء» په (١٣٥) آیت (٢٠) رکوع کښی تیر شوی دی، چه د دی دواړو په مینځ کښی فقط دومره فرق شته چه هلته «بالقسط» ئی له «لله» څخه مقدم کړی دی او ښائی چه وجه ئی دا وی چه هلته د «حقوق العباد» ذکر له اوله جریان درلود (لرلو). او دلته له پخوا راهیسی د« حقوق الله) تاکید جریان لری، نو په دی ملاحظه هلته د «بالقسط» او دلته د «لله» تقدیم مناسب شو برسیره پر دی دلته په لحاق کښی له مبغوض دښمن سره د معاملی کولو ذکر دی چه له هغه سره د «قسط» تذکر ضرور دی او هلته د سورت «النساء» د آیت په لحاق کښی د

محبوبو شیانو ذکر دی نو ځکه هلته له ګردو (تولو) څخه محبوب د پاک الله د ذکر تذکر شوی دی

وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ عَلٰۤى اَلَّا تَعْدِلُوْا ؕ

او نه دی باعث کړی تاسی دښمنی د یوه قوم په دی باندی چه عدل انصاف به ونه کړئ تاسی،

**تفسیر:** د «عدل» معنی دا ده چه له بل چا سره بی له افراطه او تفریطه همغسی معامله وکړئ چه هغه واقعی د هغی وړ (لائق) او مستحق وی. د عدل او د انصاف تله ښائی داسی سمه او برابره وی چه نه خورا (ډیر) زیاته دوستی او نه خورا (ډیر) سخته دښمنی وکولی شی چه د هغی یوه پله درنه کړی.

اِعْدِلُوْا ۫ هُوَ اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى ۚ

عدل (انصاف) وکړی تاسی!، هم دا (عدل) ډیر نژدی دی تقویٰ (پرهیز ګاری) ته

**تفسیر:** «تقویٰ» د هغه معنوی کیفیت نوم دی چه د هغو شیانو له اجتناب او ځان ژغورنی (ساتنی) څخه حاصلیږی چه شرعاً مهلک یا په کومه درجه سره مضر وی، او یو خاص نورانی کیفیت دی چه د انسان په زړه کښی راسخیږی. د «تقویٰ» د تحصیل نژدی او لری اسباب ډیر دی. ګرد (تول) حسنه اعمال او د خیر خصال «د تقویٰ» له اسبابو او معداتو څخه شمیرلی شی! لیکن معلومیږی چه «عدل» او «قسط» یعنی له دوسته او دښمنه سره یو شان معامله کول. او د حق په معامله کښی د محبت او عداوت د جذباتو تر تاثیر لاندی نه راتلل. د «تقویٰ» د حصول د خورا (ډیر) مؤثرو او د ډیرو قریبو اسبابو څخه دی. نو ئی ځکه ﴿ اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى ﴾ وفرمایل. یعنی دا عدل چه حکم ئی ورکړ شو «تقویٰ» ته ډیر نژدی دی، چه د هغه له ممارست او کولو څخه وروسته د «تقویٰ» کیفیت ډیر ژر حاصلیږی.

وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۝۸

او وویریږئ تاسی له الله (نو ظلم مه کوئ!)، بیشکه چه الله ښه خبردار دی په هغو اعمالو چه کوئ ئی تاسی.

**تفسير:** يعني داسې عدل او انصاف وکړئ! چه مخه ئې هيڅ ډول (طريقه) دوستي يا دښمني نشي نيولی. او د هغه له غوره کولو څخه انسان په آسانۍ سره متقي کيدی شي د «تقوىٰ» د حصول يوازنی لار د الله تعالىٰ ويره ده، او د هغه له انتقام څخه خوف دی. او دا خوف د ﴿ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ﴾ په مضمون کښې له ځو ځو ځلې تفکر او مراقبت کولو څخه پيدا کيږي کله چه د کوم مؤمن په زړه کښې دا يقين مستحضر شي، چه زما هيڅ پټ او ښکاره حرکت او خبره له حق تعالىٰ څخه نه ده پټه. نو د هغه په زړه کښې د الله جل جلاله له ويرې اضطراب او ريږديدنه پيدا کيږي، او د هغې نتيجه به داسې شي چه دی به په ګردو (ټولو) معاملو کښې د عدل او انصاف لاره غوره کړي. او د الله تعالىٰ د احکامو په امتثال کښې به لکه يو خاص مربي تيار ودريږي بيا په نتيجه کښې ده ته همغه نتيجه او ثمره ور په برخه کيږي، چه د هغه بيان په هم دغه راتلونکې آيت کښې راځي چه اوس ئې مونږ داسې لولو

وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ۙ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿٩﴾

وعده کړې ده الله له هغو کسانو سره چه ايمان ئې راوړی دی او کړي ئې دي ښه (عملونه د دې چه مقرر دي) دوی ته مغفرت او اجر ډير لوی (په جنت کښې)

**تفسير:** يعني نه يوازې دا چه د هغوی هغه قصور به وروبښو چه د بشريت په اقتضاء له هغوی څخه صادريږي بلکه عظيم الشان اجر او ثواب به هم دوی ته عطا فرمايو.

وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ ﴿١٠﴾

او هغه کسان چه کافران شوي دي او نسبت د دروغو ئې کړی دی آياتو زمونږ ته هم دغه کسان دي صاحبان (ملګري د اور) د دوزخ.

**تفسير:** د پخوانۍ ډلې په مقابل کښې د هغې ډلې د سزا ذکر کاوه شي، چه د قرآن کريم صاف او صريح حقائق ئې دروغ بللي دي، يا ئې د هغو دلائلو او علايمو تکذيب کړی دی چه د حق، رښتيا او د پاک خدای جل جلاله لوري ته لار ښوونه کوي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ هَمَّ قَوْمٌ أَن يَبْسُطُوٓا۟ إِلَيْكُمْ أَيْدِيَهُمْ فَكَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنكُمْ ۖ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿١١﴾

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو) یاد کړئ تاسی احسان د الله (چه) پر تاسی (دی) کله چه قصد وکړ یوه قوم د دی چه راوغځوی دوی تاسی ته لاسونه خپل (او تاسی مړه کړی) نو منع کړل لاسونه د دوی له تاسی څخه، او وویریږئ تاسی (په هیرولو د نعمتونو کښی) له الله څخه، او خاص په الله پس خامخا توکل دی وکړی مؤمنان (چه الله کافی دی په رسولو د خیر او لری کولو د شر کښی)

**تفسیر:** د عمومی احساناتو له یادولو څخنی وروسته خصوصی احسانات هم را په یادوی. یعنی د مکی معظمی قریشو او د دوی مدد گارانو رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته ربړونه (تکلیفونه) ورپېښول، او د اسلام د امحا له پاره ئی ډیری پښی او لاسونه وهل. مگر د الله تعالیٰ فضل او رحمت د دوی د هغو چلونو او فریبونو مخه ونیوله نو ښائی چه د دی لوی احسان اثر او نتیجه داسی شی. چه مسلمانان له بری او غلبی میندلو سره خپل دښمنان له هر راز ظلم، تجاوز او تیری څخنی محفوظ وساتی! او د انتقام په څوښ (جوش) کښی هم د عدل او انصاف له لاری څخه کاږه نشی! لکه چه په پخوانی آیت کښی د هغه تاکید وکړ شو. ممکن دی چه چاته داسی یوه شبهه پیدا شی، چه د داسی معاندو دښمنانو په حق کښی په دی اندازه د رواداری او احسان تعلیم آیا د سیاست له اصولو خو به مخالفت نه وی؟ ځکه چه د داسی پوست او نرم سلوک له لیدلو څخنی د مسلمانانو په خلاف د شریرانو او بد باطنانو د جرئت د زیاتیدلو قوی احتمال دی، نو د هغه ازاله ئی په ﴿ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴾ سره وفرمایله. یعنی د مؤمن خورا (ډیر) لوی سیاست «تقویٰ» او «توکل علی الله» دی. یعنی له الله تعالیٰ څخه ویریدل او پری توکل کول دی له الله جل جلاله څخنی د ویریدلو مطلب دا دی چه په ظاهر او باطن کښی له هغه سره خپله معامله صافه ولرئ! او په هغه عهد او پیمان چه تاسی کړی دی، خپله تینګه علاقه او پوره وفاداری ورښکاره کړئ! بیا نو لله الحمد له هیچا ـ او له هیڅ لوری ـ هیڅ یوه خطره مونږ ته نشته. په ورستنی ایت کښی زمونږ د عبرت له پاره د داسی یوه قوم ذکر فرمایی چه هغه له الله تعالیٰ څخه بی ویری شوی ؤ ، بد عهدی ـ او غداری ـ ئی کړی وی، او په پای (اخر) کښی په ډیرو بدو ډولونو (طریقو) سره خوار او ذلیل شول.

وَلَقَدۡ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ

او خامخا په تحقيق اخيستى ده الله وعده محكمه له بنى اسرائيلو (اولادى د يعقوب نه)

**تفسير:** دا يوازى د محمدى صلى الله عليه وسلم د امت خصوصيت نه دى، بلكه له نورو امتو څخنى ئى هم داسى عهد اخيستى دى.

وَبَعَثۡنَا مِنۡهُمُ ٱثۡنَيۡ عَشَرَ نَقِيبٗاۖ وَقَالَ ٱللَّهُ إِنِّي مَعَكُمۡۖ
لَئِنۡ أَقَمۡتُمُ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَيۡتُمُ ٱلزَّكَوٰةَ وَءَامَنتُم
بِرُسُلِي وَعَزَّرۡتُمُوهُمۡ وَأَقۡرَضۡتُمُ ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنٗا
لَّأُكَفِّرَنَّ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَلَأُدۡخِلَنَّكُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي
مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۚ فَمَن كَفَرَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ مِنكُمۡ
فَقَدۡ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ﴿١٢﴾

او ولېږل (مقرر كړل) مونږ له دوى نه دوولس «تنه» مشران (ضامنان د قوم د دوى په وفا د وعدى سره) او وفرمايل الله (اسرائيلو ته) بيشكه زه له تاسى سره يم (په معاونت او نصرت سره،) (او وى فرمايل قسم دى) خامخاكه قائم كړئ تاسى (سم اداء كړئ سره له تولو حقوقو لمونځ او وركړئ تاسى زكوة (د اموالو خپلو مستحقانو ته) او ايمان راوړئ (يقين وكړى) تاسى په رسولانو زما او مدد (او تعظيم) وكړئ تاسى د دوى او قرض وركړئ تاسى الله ته قرض نيك (ښه وركړه بى‌منته بى‌احسانه بى‌ضرره د زړه له اخلاصه نو) خامخا لرى به كړم زه هرو مرو (خامخا) له تاسى څخه ګناهونه ستاسى او خامخا داخل به كړم هرومرو (خامخا) زه تاسى (هسسى) جنتونو ته چه بهيږى له لاندى د (ونو او مانيو د) هغو ويالى، نو هر څوك چه كافر شو وروسته له دى (وعدى) له تاسى نه نو په تحقيق وركه كړى ئى ده سمه صافه لاره (د حق).

**تفسیر:** د بنی اسرائیلو له (۱۲) قبائلو دوولس مشران حضرت موسیٰ علیه وعلیٰ نبینا السلام والصلوٰة غوره کړی وو چه مفسرینو د دوی نومونه هم له (تورات) څخه نقل کړی دی نو پر دوی باندی دا خبره لازمه وه چه په خپل قوم باندی ئی د عهد په پوره کولو کښی تاکیدونه کړی وی او د دوی د احوالو کتنه او مراقبت ئی کولی او عجیب اتفاق دا دی کله چه انصارو په «لیلة العقبه» کښی د نبی کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم په لاس بیعت وکړ، نو له دوی څخنی هم (۱۲) نقیبان غوره شوی وو، او هم دی (۱۲) تنو د خپل قوم له خوا زمونږ د پاک رسول صلی الله علیه وسلم په لاس بیعت وکړ د جابر بن سمرة رضی الله تعالیٰ عنه په یوه حدیث کښی چه په محمدی امت کښی د (۱۲) خلیفگانو پخوا ویل کړی شوی دی، د هغو شمیر د بنی اسرآئیلو د نقیبانو له شمیر سره موافق دی. مفسرینو له تورات څخنی نقل کړی دی چه الله تعالیٰ حضرت اسمٰعیل علیه السلام ته فرمایلی ؤ زه به ستا په اولاد کښی (۱۲) سرداران پیدا کوم غالباً دا به همغه (۱۲) سرداران وی چه د دوی ذکر د جابر بن سمرة رضی الله تعالیٰ عنه په حدیث کښی شوی دی. یا خو دا د ﴿ إِنِّي مَعَكُمْ ﴾ خطاب همغو د بنی اسرائیلو دوولسو سردارانو ته دی. یعنی تاسی خپل فرض اداء کړئ! زما حمایت او امداد له تاسی سره دی. یا ګردو (تولو) بنی اسرآئیلو ته دی چه زه له تاسی سره یم. یعنی هیڅ وخت ما له خپل ځانه لری مه ګڼئ! هر هغه معامله چه په هر ځای او په هر وخت کښی ئی په پټه یا په ښکاره تاسی وکړئ زه ئی ګورم او اورم یی. نو ځکه هر شی چه کوئ! ښایی چه په پوهه او هوښیاری سره ئی وکړئ!

﴿ وَآمَنتُم بِرُسُلِي وَعَزَّرْتُمُوهُمْ ﴾ او ایمان راوړئ یقین وکړئ تاسی په رسولانو زما او مدد او تعظیم وکړئ تاسی د دوی) یعنی هر هغه رسول چه له حضرت موسیٰ علیه السلام څخه وروسته راځی. د هغوی د تولو تصدیق او د زړه له کومی د دوی تعظیم وکړئ! او د حق د دښمنانو په مقابل کښی له هغوی سره په خپلو ځانونو او مالونو دواړو سره معاونت او مرستی (مدد) وکړئ.

﴿ وَأَقْرَضْتُمُ اللَّهَ ﴾ او قرض ورکړئ تاسی الله ته) یعنی ورکړه کوئ! په لاره د الله دپاره د ترقی د دین له قرض ورکولو څخه مراد دا دی چه د دین او د الله د رسولانو په حمایت او ساتنه کښی خپل مالونه صرف کړئ! همغسی چه قرض ورکوونکی خپلی روپی په دی مقصد بل ته پور (قرض) ورکوی چه د ده روپی به بیرته وررسیږی او قرض اخیستونکی د هغه ادا کول په خپله ذمه لازمه ګرځوی هم دا شان د همغه الله تعالیٰ له ورکړی شوی مال څخنی هر شی چه دلته د هغه په لاره کښی صرف کړ شی، هغه به له سره نه لږ او نه ورک کیږی، حق تعالیٰ نه د کومی مجبوری له امله (وجی) بلکه محض په خپل فضل او رحمت سره ئی دا په خپله ذمه لازمه کړی ده چه هغه شی به سره له ډیری ګټی (فائدی) در ورسوی

﴿ قَرْضًا حَسَنًا ﴾ پور (قرض) نیک ښه ورکړه بی‌منته، بی‌احسانه بی‌ضرره د زړه له اخلاصه) له نیک څخنی مراد دا دی چه په اخلاص ئی ورکوئ! او له محبوبو او له مرغوبو شیانو او د حلالو، پاکو، صافو او ښو مالونو څخه ئی ورکوئ! (او ځواب د قسم دا دی)

﴿ لَأُكَفِّرَنَّ عَنكُمْ سَيِّـَٔاتِكُمْ ﴾ نو خامخا لری به کړم له تاسی څخه گناهونه ستاسی) یعنی کله چه نیکی ډیری شی بدی بدلوی او محوه کوی یی. کله چه انسان د الله تعالیٰ د عهد په پوره کولو کښی زیار باسی (محنت کوی) او کوښښ کوی نو حق تعالیٰ تری نوری کمزوری او نیمگړتیاوی لری کوی. او د خپلی خوښی او قرب په مقام کښی ورته ځای ورکوی.

﴿ فَمَن كَفَرَ ﴾ الآیة ـ نو هر څوک چه کافر شو وروسته له دی وعدی له تاسی نو په تحقیق ورکه کړی ئی ده سمه صافه لاره د حق یعنی له هسی صاف او پاخه عهد او پیمان څخه وروسته هم که څوک د الله تعالیٰ په عهد وفا ونه کړی، او غدر او خیانت ته ملا وتړی ، نو وپوهیږئ چه ده د کامیابی او د نجات سمه لاره ورکه کړی ده او معلومه نه ده چه دی به د هلاکت په کومه کنده کښی ولویږی پر کومو شیانو باندی چه له بنی اسرآئیلو څخنی د عهد اخیستلو ذکر دلته شوی دی، هغه دا شیان دی د لمانځه او زکوٰة اداء کول. پر انبیاؤ باندی ایمان راوړل. په خپلو مالو او ځانو له انبیاؤ علیهم السلام سره مرسته (مدد) کول په دغو کښی اول بدنی عبادت دی. دوهم مالی عبادت دی. دریم د زړه او د خولی عبادت دی. څلورم عبادت، فی الحقیقت د دریم عبادت اخلاقی تکمیل دی. گواکی د دی شیانو په تذکر سره ئی دغی لوری ته اشاره فرمایلی ده ، چه په ځان او په مال ، په قلب او قالب او په هر شی سره د الله تعالیٰ د اطاعت او له ده سره د وفاشعاری اظهار وکړئ! لیکن بنی اسرآئیلو په خپله خوښه او اختیار په پرله پسی ډول (طریقه) د عهدونو په ماتولو شروع وکړه او په خپل هیڅ یو قول او اقرار باندی ټینگ ونه دریدل او له دی عهد ماتولو څخنی کومه نتیجه چه راڅرگنده شوی ده د هغی بیان په دغه آیت کښی فرمائی چه

---

فَبِمَا نَقْضِهِم مِّيثَاقَهُمْ لَعَنَّاهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قَاسِيَةً ۖ يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِ ۙ وَنَسُوا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوا بِهِ ۚ وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلَىٰ خَائِنَةٍ مِّنْهُمْ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ۖ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاصْفَحْ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴿١٣﴾

---

نو په سبب د ماتولو د دوی د کلکی وعدی خپلی لعنت وکړ مونږ پر دوی او گرځولی دی مونږ زړونه د دوی سخت (چه هیڅ پند نه آخلی) چه اړوی (لری کوی) دوی کلمی (د تورات مخصوصاً محمدی نعت) له ځایونو خپلو (او په خپلی ناپاکی مدعا ئی اړوی) او هیره کړی ده دوی (غته) برخه اخیستل له هغه شی چه پند ورکړی شوی ؤ دوی ته په هغه سره (په تورات کښی چه هغه متابعت د محمد ؤ) او همیشه به ئی ته (ای محمده !) چه خبریږی په کوم

خیانت له دی (یهودانو نه) مګر لږ (کسان) له دوی نه نو عفوه وکړه «ای محمده!» له دوی نه او مخ وګرځوه (له دوی نه) بیشکه چه الله خوښوی احسان کوونکی

**تفسیر:** د «لعن» معنی (طرد، ابعاد شرل او لری کول) ده. یعنی د عهد ماتولو او د غداری له سببه مونږ دوی له خپل رحمت څخه لری وغورځول (یا مسخه مو کړل یا جزیه مو پری کیښوده) او د دوی زړونه مو سخت کړل په ﴿ فَبِمَا نَقْضِهِم مِّيثَاقَهُمْ ﴾ کښی ظاهر وفرمایل چه د دوی د ملعونیت او زړه سخت کیدلو سبب هغه عهد ماتول او بیوفایی ده چه د دوی خپل فعل دی. اما پر اسبابو باندی د مسبباتو مرتبول څرنګه چه د الله تعالیٰ کار ؤ نو په دی لحاظ د ﴿ وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قَاسِيَةً ﴾ نسبت د الله جل جلاله په لوری وکړ شو ﴿ يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِ ﴾ اړوی دوی کلام د تورات، مخصوصاً محمدی نعت له ځایونو خپلو څخه په خپلی ناپاکی مدعا) یعنی د الله تعالیٰ په کلام کښی تحریف کوی کله د هغه په الفاظو کښی، کله د هغه په معانیو کښی، کله په تلاوت کښی، د تحریف دغه ګرد (تول) اقسام په قرآن کریم او د احادیثو په کتابونو کښی ذکر شوی دی، چه پر هغو باندی لږ څه اعتراف د نن ورځی اروپائی (یورپین) عیسائیانو هم کړی دی.

﴿ وَنَسُوا حَظًّا ﴾ الآیة ـ او هیره کړی ده کتابیانو غته نفع اخیستل له هغه شی نه چه پند ورکړی شوی ؤ دوی ته) یعنی لازم خو دا ؤ چه اهل د کتاب د دغو آسمانی کتابونو له قیمتدارو پندونو څخنی فائدی اخیستلی وی، مثلاً د نبی آخر الزمان صلی الله علیه وسلم د راتګ او د نورو دینی مهماتو په نسبت د هغو په کتابونو کښی ارشادات موجود وو مګر دوی په خپلو شرارتونو او غفلتونو اخته او دا ګرد (تول) شیان ئی له یاده وویستل بلکه د پندونو هغه ضروری برخی ئی هم ورکی کړی او اوس هم هغه پندونه او مفیدی خبری چه د خاتم النبیین صلی الله علیه وسلم له خولی هغوی ته کیږی د هغو هیڅ یو اثر نه قبلوی. حافظ ابن رجب حنبلی رحمة الله علیه لیکی «د نقض العهد» له سببه په دوی کښی دوه خبری پیدا شوی ـ ١ـ «ملعونیت» ٢ـ «قسوةالقلب» یعنی د زړه سختوالی د دی دواړو نتیجه دا دوه شیان شول. (اول) «د کلام الله تحریف» (دوهم) «په ذکر باندی نه نفع اخیستل» یعنی د لعنت په اثر د دوی دماغ ممسوخ شو ، تر دی چه له نهایت بیباکی او بدعقلی څخنی د آسمانی کتابونو تحریف ته تیار شول. له بلی خوا کله چه د عهد ماتولو له نحوست او شومتیا څخه د دوی زړونه سخت شول، نو د حق د قبلولو او له پند څخنی د متاثر کیدلو ماده په دوی کښی پاتی نشوه. نو ځکه دوی خپل علمی او عملی دواړه قوتونه ضائع کړل.

﴿ وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلَىٰ خَائِنَةٍ مِّنْهُمْ ﴾ او همیشه به ته مطلع کیږی په کومه دغا له دوی نه) یعنی د دوی د دغابازی او خیانتکاری سلسله تر نن ورځی پوری جاری ده او وروسته له دی نه به هم جاری وی نو ځکه تل تاسی د دوی پر یوی نه یوی دغابازی او مکر و فریب او خیانت باندی

خبریږئ. (په ـ خائنة ـ کښې «ة» له پاره د مبالغې ده لکه علامة او نسابة کښې.)
﴿ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ﴾ : مګر لږ کسان له دوی نه چه هغوی خیانت نه دی کړی او نه ئې کوی لکه عبدالله بن سلام او نور چه په اسلام کښې داخل شوی دی رضی الله تعالیٰ عنهم.
﴿ فَاعْفُ عَنْهُمْ ﴾ الآية ـ نو عفوه وکړه! ای محمده له دوی نه.) یعنی کله چه د هغوی پخوانی عادت هم دا دی نو له داسې خلقو سره په هره جزئی خبره کښې د لګیدلو او د هغوی د خیانت د پردو لرې کولو او شلولو ته هیڅ ضرورت نشته ـ دوی پریږدئ او ترې تیر شئ! او د دوی د خرابئ بدل په عفوه او احسان سره اداء کړئ! ګوندی چه له دې ځنې لږ څه متاثر شی.
قتاده او نورو رحمة الله علیهم ویلی دی چه دا آیت په ﴿ قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ ﴾ الآية ـ سره منسوخ شوی دی. مګر دی ته هیڅ حاجت نشته ځکه د قتال له حکمه دا نه لازمیږی چه په هیڅ وخت او هیڅ موقع کښې دی هم د داسې قوم په مقابله کښې له عفوی او اغماض او تالیف القلوب او تیریدلو ځنې کار وانخیست شی. (بیضاوی وائی چه عفو او صفح مشروط دی په دې شرط سره چه دوی توبه وباسی او ایمان راوړی یا صلح وکړی او جزیه ومنی، نو په دې تقدیر نسخ نشته او که عفو او صفح دواړه مطلق وی، نو دا حکم به د سیف په آیت سره منسوخ وی.)

---

وَمِنَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّا نَصَارَىٰ أَخَذْنَا مِيثَاقَهُمْ فَنَسُوا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوا بِهِ فَأَغْرَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ ۚ وَسَوْفَ يُنَبِّئُهُمُ اللَّهُ بِمَا كَانُوا يَصْنَعُونَ ﴿١٤﴾

---

او ځینو له هغو کسانو ځنې چه وایې دوی بیشکه مونږ نصرانیان یو اخیستی ؤ مونږ محکم عهد د دوی نو هیره کړه دوی (غته) برخه آخیستل له هغه شی چه پند ورکړی شوی ؤ دوی ته په هغه سره نو واچاوه مونږ په منځ د دوی کښې عداوت (دښمنی) او بغض (کینه) تر ورځې د قیامته پورې او ژر به خبر ورکړی دوی ته الله په هغو کارونو چه وو دوی چه کول به ئې.

---

**تفسیر:** یعنی **(واخذنا من النصارىٰ میثاقهم کما اخذنا ممن قبلهم)** د نصارىٰ د کلمې مأخذ یا خو «نصر» دی چه معنی ئې مدد کول دی. یا د «ناصره» په لوری منسوب دی چه په شام کښې د هغې قریې نوم دی چه هلته مسیح علیه السلام هستوګنه درلوده (لرله)، نو ځکه ورته ناصری مسیح علیه السلام هم وائی هغه کسان چه خپل ځانونه ئې «نصارىٰ» بلل ګواکې دوی د دې خبرې مدعیان وو چه مونږ د الله تعالیٰ د حق دین او د انبیاؤ علیهم السلام رښتینی حامیان

او ناصران یو! او د ناصری مسیح له متابعانو څخه یو. د ژبې د دعوې او ظاهری افتخار سره سره هغه لاره چه دوی د دین په چارو کښې غوره کړې وه په آینده کښې به ذکر شي.
﴿ أَخَذْنَا مِيثَاقَهُمْ ﴾ الآیة ـ اخیستی ؤ مونږ محکم عهد له نصرانیانو نه هم په انجیل کښې چه هغه د محمد صلی الله علیه وسلم متابعت و) یعنی د یهودانو په شان له دوی څخه هم کلک عهد اخیستلی شوی لیکن دوی هم په عهد ماتولو او بی وفایی کښې له خپلو پخوانیو څخه هیڅ کم نه وو. دوی هم له هغو ښو پندونو څخه هیڅ یوه فائده وانخیسته چه پر هغو ابدی فلاح او نجات مرتب ؤ بلکه په «انجیل ـ بائبل» کښې ئې د نصائحو هغه برخه بیخې پرې نښوده چه فی الحقیقت د مذهب مغز وه (او هم د حضرت محمد صلی الله علیه واله و صحبه وسلم د متابعت په نسبت د هغه احکام ونه منل.)
﴿ فَأَغْرَيْنَا ﴾ الآیة ـ نو واچاوه مونږ په منځ د دوی کښې عداوت ، دښمنی او بغض کینه) یعنی د نصرانیانو په منځ کښې یا د یهودو او نصاریٰ ؤ په منځ کښې به تل تر تله جګړې او عداوتونه قائمیږی. او د اسمانی تعلیماتو له ضایع کولو او هیرولو څخه کومه نتیجه چه پیښیدونکې وه هغه پیښه شوه. یعنی کله چه د الله تعالیٰ د وحی اصله رڼا (رڼرا) له هغوی سره پاتی نشوه، نو د اوهامو او هوسونو په تیارو کښې یو له بله سره ولګیدل. مذهب هغوی ته پاتی نشو، ولی مذهبی جګړې تر اوسه پورې پاتی دی. په دوی کښې په شلهاو فرقې پیدا شوی دی، چه دوی ګردی (تولی) په تیارو کښې یو له بلې سره نښتی دی. هم دا د فرقه واری تصادم چه بالاخره د دوی په منځ کښې په خورا (ډیر) سختو عداوتونو او کینو سره منتهی شو. په دی خبره کښې د شبهې ځای نشته چه نن د مسلمانانو په منځ کښې هم بیحده تفرق او تشتت او مذهبی تصادم شته، لیکن څرنګه چه له مونږ سره د الله تعالیٰ وحی او اسمانی قانون لله الحمد بی له زیادته او نقصانه محفوظ شته، نو ځکه سره له دومره اختلافاتو بیا هم د مسلمانانو یو لوی جماعت د حق او صداقت پر مرکز برابر قائم پاتی دی او پاتی به وی. بالعکس د یهودو او نصاریٰ ؤ اختلافونه یا مثلاً د «پروتستانت» او «رومن کاتولیک» او د نورو فرقو یو له بله سره په مخالفت کښې هیڅ یوه فرقه هم نن ورځ د حق او صداقت پر لویه لاره نه ده روانه او نه به د قیامت تر ورځې پورې هم په سمه لاره روانه شي، ځکه چه دوی د الله تعالیٰ د وحی هغه رڼا (رڼرا) د خپلو بی‌اعتدالیو او غلط کاریو په سبب له لاسه ایستلی ده چه بی له هغه هیڅ یوه انسان ته د الله تعالیٰ او د ده د قوانینو صحیح معرفت په لاس نشي ورتلی. اوس تر هغه پورې چه دوی د هغه محرف «انجیل بائیبل په لمن منګولی لګولی وی محاله ده چه تر قیامته پورې به هم دوی د ړندو او محض بی‌اصولو اختلافاتو او فرقهواری د بغض او عناد له ظلمته ووځی او د حقانیت لاره ومونډلی شي او د ابدی نجات پر لویه لاره لاړ شي. باقی هغه کسان چه نن په اصل مذهب خصوصاً «عیسویت» پورې مسخری کوی او ملندی وهی او له هغه څخه توکی جوړوی او هغه کسان چه د «مسیحیت» لفظ یا موجوده «انجیل بائیبل» ئې محض د خو سیاسی ضرورتونو له پاره پریښی دی په دی آیت کښې د هغو نصاریٰ ؤ ذکر نشته، او که ومنل شي چه هغوی هم د دی آیت لاندی داخل

دی نو د دوی یو له بله سره عداوتونه او په خپلو منځونو کښې یو بل ته د مخالفت او عداوت لومی کښینول، او مکر او حیلې چلول او ښکاره محاربې هم د پوهانو له نظره پټ نه دی.

﴿ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ ﴾ تر ورځې د قیامت پورې) یعنی څو دوی پاتې وی (د آراؤ د تفرقې او د خواهشونو د اختلاف په سبب چه یو د بل پسې لویدلې وی) دا اختلافات او بغض او عناد به د دوی په منځ کښې موجود وی.

دلته د «تر قیامته» لفظ داسې دی لکه چه په محاورو کښې ویل کیږی «فلانې سړی به تر قیامته هم له فلانې کار څخه لاس وانخلی» چه په هغه سره دا مقصد نه دی چه هغه سړی به تر قیامته ژوندی پاتې وی او په هغه کار کښې به بوخت (مشغول) وی. مراد ئې دا دی چه که تر قیامته پورې هم ژوندی پاتې شی له دی کار څخه لاس نه اخلی نو په دی تقدیر په آیت کښې د ﴿ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ ﴾ له لفظ څخه دا خبره نه ثابتیږی چه د یهودو او نصارىٰ ؤ وجود به تر قیامته پورې پاتې وی. لکه چه زموږ په زمانه کښې ځینو مبطلینو په خپلو تفاسیرو کښې لیکلی دی.

﴿ وَسَوْفَ يُنَبِّئُهُمُ اللَّهُ ﴾ الآية - او ژر به خبر ورکړی دوی ته الله په هغو کارونو چه وو دوی چه کول به ئې) یعنی په آخرت کښې به په ښه ډول (طریقه) سره او په دنیا کښې به هم د ځینو واقعاتو په وسیله هغوی ته د دوی د بدو کارونو نتیجه ورمعلومه شی (چه کول به ئې له خیانت او د نعت له اخفاء ، مخالفت او نور، نو جزا به ورکوی دوی ته).

---

## يَا أَهْلَ الْكِتَابِ قَدْ جَاءَكُمْ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ كَثِيرًا مِّمَّا كُنتُمْ تُخْفُونَ مِنَ الْكِتَابِ وَيَعْفُو عَن كَثِيرٍ ۚ

---

ای اهل د کتابو ! په تحقیق درغلی دی تاسی ته رسول زموږ (محمد) چه بیانوی (ښکاروی) تاسی ته ډیر له هغو شیانو چه وئ تاسی چه پټول به مو له کتابه (تورات او انجیل نه لکه د رجم آیت او محمدی نعت) او عفو کوی (تیریږی) له ډیرو (شیانو)،

---

**تفسیر:** دا ګردو (ټولو) یهودانو او نصرانیانو ته خطاب دی چه هغه نبی آخر الزمان صلی الله علیه وسلم تشریف راوړ ، چه د ده د راتګ بشارت ستاسی په کتابونو کښې سره له دومره تحریفاتو لا هم څه نه څه په یوه نه یوه عنوان شته. او پاک الله د دی رسول صلی الله علیه وسلم په ژبه خپل پاک کلام جاری کړی دی. او هغه حقایق ئې تکمیل کړل چه له حضرت مسیح علیه السلام څخه ناتمامه پاتې وو، د «تورات» او «انجیل» هغه خبری چه تاسی پټولی او تغیر او تبدیل مو پکښې کاوه له هغو څخه ګردی (ټولی) ضروری خبری هم دی رسول آخر الزمان صلی الله علیه وسلم تاسی ته ظاهری کړی دی او له هغو خبرو ځنې تیر شوی دی چه اوس هغو ته

دومره ضرورت نه دی پاتی او یا په اظهار کښې ئې څه مصلحت نه ؤ.

قَدْ جَآءَكُمْ مِّنَ اللَّهِ نُورٌ وَّكِتَٰبٌ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾ يَهْدِي بِهِ اللَّهُ
مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَٰنَهُۥ سُبُلَ السَّلَٰمِ وَيُخْرِجُهُم مِّنَ الظُّلُمَٰتِ
إِلَى النُّورِ بِإِذْنِهِۦ وَيَهْدِيهِمْ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿١٦﴾

په تحقیق درغلی دی تاسی ته له (طرفه د) الله څخنی نور رڼا (رڼرا) یعنی محمد او کتاب مبین (روښان بیانوونکی قرآن) چه هدایت کوی په (هر یوه) له دی سره الله هغه چا ته چه تابع وی د رضاء د ده لاری د سلامتی ته او باسی دوی له تیارو (د کفر، شک، جهل) څخه نور (رڼا (رڼرا) د ایمان، یقین علم) ته په اذن (حکم، اراده، توفیق،) خپل او هدایت (ښوونه) کوی دوی ته (په طرف د) لاری سمی صافی (د توحید.)

**تفسیر:** ښایی د «نور» نه پخپله نبی کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم او له «کتاب مبین» څخه قرآن کریم مراد وی، یعنی یهودانو او نصرانیانو چه د الٰهی وحی رڼا (رڼرا) ضایع کړی ده او د اهواؤ او آراؤ په تیارو کښې ورک او په خپلو منځونو کښې د شقاق او نفاق او خلاف په کندو کښې لویدلی او په داسی تیلماتیل کښې سره اخته دی، چه له هغه څخه په موجوده حالت کښې وتل، تر قیامته پوری به هم ممکن نه وی ، نو ای محمده! صلی الله علیه وسلم ووایه دوی ته چه د الله تعالیٰ په ډیری زووروری رڼا (رڼرا) سره ګرد (تول) جهان روڼ شوی دی. که د ابدی نجات پر سمه لاره باندی تلل غواړئ نو په دی رڼا (رڼرا) کښې د الله تعالیٰ د رضاء او خوښی حاصلولو پسی شئ! چه د سلامتی ګردی (تولی) لاری به سمی او خلاصی مومئ! او له تیارو څخنی به وځئ! په دغه رڼا (رڼرا) کښې به بی له ربړه (مصیبت) او تکلیفه تللی شئ! او د هغه پاک الله د رضاء او خوښی چه تابع شوی یئ د هغه په لار ښوونی او لاس نیونی سره به ﴿ الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ﴾ بی تکلیفه طی کولی شئ!

لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوٓا إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ ط

خامخا په تحقیق کافران شوی دی هغه کسان چه وایی دوی بیشکه چه الله هم دا مسیح زوی د مریمی دی،

**تفسیر:** یعني الله بی له مسیح علیه السلام څخه کوم بل شی نه دی (معاذ الله) وائی چه په نصرانیانو کښی دا د «یعقوبیه ؤ» د فرقی عقیده ده چه د دوی په نزد د مسیح علیه السلام په قالب کښی الله تعالیٰ حلول کړی دی (معاذالله) یا داسی ویلی شی کله چه «نصاریٰ» د حضرت مسیح علیه السلام په نسبت د «الوهیت» قائلان دی او ورسره په خپلو ژبو د توحید اقرار هم کوی، یعني وائی چه الله جل جلاله یو دی، نو د دی دواړو دعواؤ لازمی نتیجی دا دی چه د دوی په نزد ما سوا له مسیح علیه السلام بل خدای نشته (استغفر الله) په هر حال او هر صورت چه واخیست شی د دی عقیدی د کفر په تصریح کښی هیڅ شبهه نشی کیدی.

قُلْ فَمَنْ يَّمْلِكُ مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا اِنْ اَرَادَ اَنْ يُّهْلِكَ الْمَسِيْحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَاُمَّهٗ وَمَنْ فِى الْاَرْضِ جَمِيْعًا ط

ووایه (ای محمده! دغو نصرانیانو ته) نو څوک به مالک شی (د منعی) له الله څخني د یوه شي؟ که اراده وفرمایي (الله) د دی چه هلاک کړی مسیح زوی د مریمي او مور د ده او هومره خلق چه په ځمکه کښی دی ګرد (تول) سره تول (بلکه هیڅوک ئی نشی کولی!)

**تفسیر:** یعنی فرض کړئ که قادر او قهار الله جل جلاله داسی اراده وفرمائی چه حضرت مسیح علیه السلام او بی‌بی مریم او ګرد (تول) وړاندنی او وروستنی د ځمکی اوسیدونکی سره یو ځای کړی او په یوه شیبه (یو ساعت) کښی ګرد (تول) سره مړه کړی، نو هم دا تاسی وښیئ! چه څوک به ئی د ارادی مخه ونیولی شی؟ یعنی که له ازله تر ابده پوری ګرد (تول) انسانان هم سره فرضاً تول کړل شی، او الله جل جلاله په یوه آن کښی د دوی د هلاکولو اراده وفرمائی نو د دوی ګرد (تول) اجتماعی قوت هم د الله تعالیٰ د ارادی مخه د لږ وخت له پاره هم نشی ځندولی (ملتوی کولی)، ځکه چه د مخلوقاتو محدود او ورکړی شوی قوت او قدرت د الله تعالیٰ د لامحدوده او ذاتی قوت او قدرت په مقابل کښی داسی پوره عاجز او لاشی دی چه پر هغه هم دا خلق هم اعتراف کوی چه د دوی په رد کښی دا خطاب کیږی، بلکه په خپله مسیح ابن مریم علیه السلام هم چه هغه خلق ئی خدای بولی هم په دی باندی معترف دی لکه چه د «مرقس» په «انجیل» کښی د حضرت مسیح علیه السلام دا مقوله موجوده ده «ای پلاره! هر شی ستا تر قدرت لاندی دی. ته له مانه دا (د موت) جام واړه وه! نه په دی شان چه زه ئی غواړم. بلکه په هغه دول (طریقه) چه ستا اراده ده.» نو کله چه هغه حضرت مسیح علیه السلام چه تاسی ئی خدای بولئ او د هغه ماجده والده صدیقه بی بی مریمه چه ستاسی په زعم د خدای مور ده. که دا دواړه هم سره له ګردو (تولو) هغو کسانو چه د ځمکی په سر هستوګنه لری، یو ځای شی د الله

تعالیٰ د مشیت او ارادی په مقابل کښې عاجز او ناتوان دی. نو تاسی په خپله فکر او اتکل وکړئ!، چه په خپله د هغه یا د هغه د والدی یا د بل کوم مخلوق په نسبت به د الوهیت دعوی کول څومره گستاخی او سپین سترگی توب وی؟

د آیت په دی تقریر کښی مونږ د «هلاک» معنی په «موت» سره واخیسته، مگر د «جمیعاً» لفظ ته مو لږ وضاحت ورکړ د «جمیعاً» د لفظ کوم مدلول چه مونږ دلته بیان کړ، هغه د عربی امامانو له تصریحاتو سره بیخی موافق دی. له دی نه پرته (علاوه) دا هم ممکن دی چه په دی آیت کښی د «هلاک» معنی په «موت» سره وانه خیسته شی لکه چه «راغب» رحمة الله علیه لیکلی دی کله د «هلاک» معنی داسی وی چه کوم شی بیخی پوپنا (بالکل پنا)، نیست او نابود شی مثلاً ﴿ كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ ﴾ د الله تعالیٰ له ذاته ماسواء هر شی پوپنا (بالکل پنا) کیدونکی دی» په دی معنی سره د آیت مطلب به داسی وی که قادر خدای د حضرت مسیح علیه السلام او د ده د ماجدی والدی او د ځمکی د گردو (تولو) مخلوقاتو د قطعی نیست او نابود او بیخی پوپنا (بالکل پنا) کولو اراده وفرمایی نو څوک به ئی د دی ارادی مخه ونیسی؟.

هغه کیږی چه الله ئی اراده کړی دا جهان به په یوه آن کښی بیکاره کړی حضرت شاه صاحب فرمایی چه «الله تعالیٰ په ځینو ځایونو کښی د انبیاؤ علیهم السلام په حق کښی داسی ارشاد فرمایی څو چه د هغو امت خپل انبیاء علیهم السلام د بندگی له حده پورته نه کړی که نه د نبیانو علیهم السلام هغه عالی مرتبه او مقام چه د خدای جل جلاله په نزد ئی لری د دی وړ (لایق) نه ؤ چه د دی خطاب مورد وگرځی.

---

وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۚ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۚ

---

او خاص الله لره دی ملک (سلطنت) د آسمانونو او (سلطنت) د ځمکی او (سلطنت) د هغو شیانو چه په مینځ د دوی کښی دی، پیدا کوی (الله) هغه چه اراده وفرمایی د (پیدا کولو یی)،

---

**تفسیر:** یعنی هر څه ئی چه اراده وی او په هر دول (طریقه) چه اراده وفرمایی هغه کوی مثلاً حضرت مسیح علیه السلام ئی بی پلاره او حضرت حواء رضی الله تعالیٰ عنها ئی بی له موره او حضرت آدم علیه السلام ئی بی له موره او بی له پلاره پیدا کړی دی.

---

وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٧﴾

---

او الله پر هر څیز باندی (چه اراده وفرمایی) ښه قادر دی (نو بی له پلاره بی

له موره او بی له والدینو ئی هم پیدا کوی)

**تفسیر:** د هیچا زور د الله جل جلاله په مقابل کښې نه چلیږی، گرد(تول) ابرار او اخیار هم هلته مجبور دی.

وَقَالَتِ الْيَهُودُ وَالنَّصٰرٰى نَحْنُ اَبْنٰٓؤُا اللّٰهِ وَاَحِبَّآؤُهٗ

او ویل یهودانو او نصرانیانو چه مونږ ځامن د الله یو (په قرب او منزلت کښې) او دوستان د ده یو،

**تفسیر:** ښایی دوی د دی له امله (وجی) خپلو ځانونو ته د خدای ځامن وایی چه د دوی په «انجیل بائبل» کښې خدای (اسرائیل یعقوب علیه السلام)خپل ړومبنی زوی او خپل ځان ئی د هغه پلار بللی دی، له بل لوری نصارىٰ حضرت مسیح علیه السلام ابن الله بولی (معاذ الله) نو ښایی غالباً به ئی د دی له پاره خپل ځانونه د ابناؤ الله په لفظ ستایلی وی چه د اسرائیل اولاده او د حضرت مسیح امت وګڼل شی او دا هم ممکن دی چه د «زوی» له ویلو څخنی دا مراد وی چه مونږ د خدای په نزد د زیات خصوصیت او محبوبیت له امله (وجی) ده ته د ده د اولادی په شان یو په دی صورت کښې به د «ابناء» حاصل همغه شی کیږی چه د «احباء» د لفظ دی.

قُلْ فَلِمَ يُعَذِّبُكُمْ بِذُنُوبِكُمْ

ووایه (ای محمده! دی کتابیانو ته) نو ولی په عذابوی (الله) تاسی په سبب د گناهونو ستاسی؟،

**تفسیر:** (حال دا چه نه عذابوی پلار زوی خپل او نه دوست خپل نو دروغجنان یئ تاسی) څرنګه چه د حقیقت له مخی د کوم مخلوق «ابن الله» کیدل بالکل محال او بدیهی البطلان دی او د ﴿ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهٗ ﴾ (٦ جزء د المآئدة (٥٤) (آیت (٨) رکوع) د مضمون له مخی الله تعالىٰ محبوب ګرځیدل ممکن دی نو ځکه په دی جمله کښې اول د «محبوبیت» د دعوی تردید وشو، یعنی هغه قوم چه د ښکاره بغاوتونو او ډیرو شدیدو ګناهونو له سببه دلته په څو قسمو رسوائیګانو او عذابونو کښې نیولی شوی دی او په آخرت کښې هم عقلاً او نقلاً د حبس دوام د سزا استحقاق لری آیا د داسی باغی او عاصی قوم په نسبت د یوی لمحی دپاره هم کوم ذی شعور داسی خیال کولی شی چه دا به د الله تعالىٰ محبوب او مکرم وی؟ پاک الله له هیچا سره نسبی علاقه نه لری. د ده مهربانی او محبت یوازی له اطاعت او حسن عمل څخه حاصلیدلی شی. داسی

پخو مجرمانو ته چه د خورا (ډير) ډيرو سختو سختو سزاګانو مستحق او مورد شوی دی له دی ځخه شرم او حيا په کار ده چه دوی د «نحن ابناؤالله - او - احباؤه» دعوی وکړی، د حضرت نوح عليه السلام د زوی په نسبت سره له دی چه د ده صلبی زوی ؤ الله تعالیٰ وفرمايل چه ﴿اِنَّهٗ لَیْسَ مِنْ اَهْلِكَ ۚ اِنَّهٗ عَمَلٌ غَیْرُ صَالِحٍ﴾ (۱۱ د هود (٤٦) آيت ٤ رکوع) وځيږی له نوحه د طوفان په موج فنا شی زوی د آزر وومومی له اور ځخه نجات نو الله جل جلا له د کتابيانو د دی وينا ترديد چه «مونږ د الله ځامن او دوستان يو» فرمايی چه داسی نه ده

بَلْ اَنْتُمْ بَشَرٌ مِّمَّنْ خَلَقَ ؕ

بلکه تاسی (هم) يو بشر (بنيادم) يئ د هغو مخلوقاتو نه چه الله پيدا کړی دی،

**تفسير:** «بشر» په لغت کښی اصلاً د پوستکی د باندی سطحی ته وايی. د هم دی لږ څه تناسب له سببه انسان ته «بشر» ويل کيږی ښای د دی لفظ له غوره کولو ځخه په دی ځای کښی دا نکته په نظر کښی وی چه تاسی ته د الله تعالیٰ ځامن او محبوبان ويل لا څه چه شريف او ممتاز انسان هم نه ويلی کيږی، هم دا يوازی د بشری او شکل او صورت په لحاظ د الله تعالیٰ يو معمولی او عادی مخلوق او بنده بلل کيدی شئ اچه پيدايښت مو هم په همغی معتادی طريقی سره شوی دی لکه چه د نورو عمومی انسانانو شوی دی. نو بيا د «ابنيت» وهم له کوم ځای ځنی پيدا کيدی شی؟

يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ

مغفرت کوی (الله) هغه چاته چه اراده وفرمايی (د مغفرت يی) او عذابوی هغه څوک چه اراده وفرمايی (د عذاب يی)

**تفسير:** ځکه چه همغه ته دغه خبره ښه معلومه ده چه څوک د مغفرت وړ (لائق) او کوم يوه ته سزا ورکړه شی؟

وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۫ وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ⑱

او خاص الله لره دی ملک (سلطنت) د آسمانونو او (سلطنت) د ځمکی او (سلطنت) د هغو شيانو چه په منځ د دوی کښی دی او خاص هم ده ته دی

بیا ورتلل (د تولو، نو وربه کړی هر چا لره جزا د عمل د ده)

**تفسیر:** نو د هر چا د معافولو اراده چه دی په خپل فضل او رحمت او حکمت سره وفرمائی یا سم له عدل او انصاف سره د چا د سزا ورکولو اراده ولری، په دی کښی څوک له ده سره مزاحم کیدی نه شی. نه کوم مجرم ته د دی خبری توان او قدرت شته چه د ده له سلطنت او ځمکی او آسمان څخه د باندی ووځی او نه دا چه په آخرت کښی چیری تری وتښتی.

یَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ قَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمۡ عَلَىٰ فَتۡرَةٖ مِّنَ ٱلرُّسُلِ أَن تَقُولُواْ مَا جَآءَنَا مِنۢ بَشِيرٖ وَلَا نَذِيرٖۖ فَقَدۡ جَآءَكُم بَشِيرٞ وَنَذِيرٞۗ

ای اهل د کتابو! په تحقیق درغلی دی تاسی ته رسول زمونږ (محمد) بیانوی تاسی ته (شرعی احکام) په (وخت د) انقطاع د رسولانو (او معطل کیدو د وحی) کښی چه بیا چیری ونه وایئ تاسی (په قیامت کښی) چه نه ؤ راغلی مونږ ته هیڅ زیری کوونکی (په نعیم سره) او نه ویروونکی (په جحیم سره) نو په تحقیق راغی تاسی ته زیری کوونکی او ویروونکی،

**تفسیر:** یعنی زمونږ احکام او شرایع په نهایت توضیح سره په ډیر ښکاره ډول (طریقه) سره بیانوی. د دی رکوع په شروع کښی ئی د بنی اسرائیلو (یهودانو او نصارىٰ و) د راز راز(قسم قسم) شرارتونو او حماقتونو بیان وفرمایل او دا ئی ښکاره کړه چه اوس زمونږ رسول صلی الله علیه و آله وسلم تاسی ته راغلی دی چه ستاسی غلطی چاری در واضحی کوی او تاسی له تیارو څخنی باسی او د رنا (رڼا) په لوری مو بیایی وروسته له دی پر دی باندی تنبیه فرمایی چه اوس د هدایت د رنا (رڼا) په لوری تلل پر دوو شیانو موقوف دی یو دا چه د الله تعالیٰ صحیح معرفت حاصل کړئ! او د خالق او مخلوق په نسبت غلطی عقیدی مه لرئ له

﴿ لَّقَدۡ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ مَرۡيَمَ ﴾ نه تر دی ځای پوری د دی جز بیان ؤ. دوهم څیز دا دی چه پر نبی الانبیاء صلی الله علیه وسلم ایمان راوړئ ! چه د ګردو (تولو) پخوانیو انبیاؤ علیهم السلام د کمالاتو جامع او د الهی شرائعو خورا (ډیر) لوی او آخری شارح دی. د دی جز بیان په دی آیت ﴿ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ قَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمۡ عَلَىٰ فَتۡرَةٖ ﴾ الآیة - کښی کړی شوی دی. ﴿ فَقَدۡ جَآءَكُم بَشِيرٞ وَنَذِيرٞ ﴾ نو په تحقیق راغی تاسی ته زیری ورکونکی او ویروونکی،) له حضرت مسیح علیه السلام نه نژدی (٦٠٠) کاله وروسته د انبیاؤ د

راتګ سلسله منقطع شوی وه. او ګرده (توله) دنيا تر ما شاءالله پوری د جهل او غفلت هوسونو او اوهامو په تيارو کښې لويدلې وه د هدايت ډيوه مره شوی وه د ظلم او عدوان او الحاد تکې توری وريځې پر ګرد (تول) آفاق خوری شوی وې په دی وخت کښې د ګرد (تول) جهان د اصلاح له پاره پاک الله جل جلاله له ګردو (تولو) څخنی لوی «هادی» او بشير» او «نذير» راوليږه ! چه جاهلانو ته د دارينو د فلاح لاری ور وښيي او غافلان په خپل تخويف او انذار سره ويښ کړی او تيت همتان د بشاراتو په آورولو سره په شوق راولی، په دی شان په ګردو (تولو) مخلوقاتو کښې د الله تعالیٰ حجت تمام شو. که څوک ئې ومنی، او که ئې ونه منی.

وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ⁽¹⁹⁾

او الله په هر شي (چه اراده وفرمايي) ښه قادر دی (چه له هغی جملی نه د نبيانو عليهم السلام د سلسلی له قطع کيدو څخه وروسته د محمد صلی الله عليه وسلم ارسال دی).

**تفسير:** يعني که تاسی د دی رسول خبره وا نه وريځ نو الله تعالیٰ قدير دی چه بل يو قوم ستاسی په ځای ودروی چه د الله تعالیٰ پيغام به په پوره ډول (طريقه) سره ومنی او د الله تعالیٰ له رسول سره پوره ملګرتيا وکړی د الله تعالیٰ کار په تاسی باندی هيڅ نه دی موقوف.

وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ جَعَلَ فِيْكُمْ اَنْۢبِيَآءَ وَجَعَلَكُمْ مُّلُوْكًا ۖ وَّاٰتٰىكُمْ مَّا لَمْ يُؤْتِ اَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ⁽²⁰⁾

او (ياد کړه ای محمده!) هغه وخت چه وويل موسیٰ قوم خپل ته ای قومه (زما) ياد کړئ تاسی نعمت (احسان) د الله پر تاسی باندی کله چه وګرځول (الله) په تاسی کښې (ډير) انبياء او وګرځول (الله) په تاسی کښې (يا له تاسی نه) باچايان او در ئې کړ تاسی ته هغه چه نه ئې ورکړی ؤ هيڅ يوه ته له خلقو (د زمانی ستاسی)

**تفسير:** په «موضع القرآن» کښې دی چه حضرت ابراهيم عليه السلام د خپل پلار وطن (عراق) پريښود او د الله تعالیٰ په لاره د (شام) ملک ته لاړ او هلته ئې هستوګنه غوره کړه او تر يوی

مودی پوری ئی اولاد ونشو دلته الله تعالیٰ پری زیری وکړ چه «زه ستا زیاته اولاده خپروم او د (شام) ځمکی به هغوی ته ورکوم او نبوت، دین ، کتاب او سلطنت به د دوی په منځ کښی ږدم.» بیا ئی د حضرت موسیٰ علیه السلام په وخت کښی هغه وعده پوره کړه او بنی اسرائیل ئی د فرعون له بیګاره وژغورل (وساتل) او قبطیان ئی دوب کړل سبطیانو ته ئی وفرمایل چه له (عمالقه ؤ) سره جهاد وکړئ، او د (شام) ملک ځانته فتح کړئ! بیا د تل له پاره د (شام) ملک ستاسی دی حضرت موسیٰ علیه السلام هغه دولس تنه سری چه د بنی اسرآئیلو په دوولسو قبائیلو باندی سرداران مقرر کړی وو (شام) ته ولیږل چه د هغه ملک حال احوال راوړی کوم خبرونه چه دوی د خپلو مطالعاتو په اثر راوړل له هغو ځنی دا ښرګنده شوه چه د (شام) په ملک کښی خورا (ډیر) زیات محاسن او ښیګڼی (فائدی) شته او د هغو (عمالقه ؤ) زور او قوت ئی بیان کړ چه دوی پر شاماتو او شامیانو مسلط او حاکمان وو. حضرت موسیٰ علیه السلام دوی ته وویل «تاسی خپل قوم ته د (شام) محاسن بیان کړئ! مګر د دښمن د قوت څه ذکر مه کوئ!» له دوی ځنی یواځی دوو تنو پر دغه حکم عمل وکړ او لسو تنو نورو ئی تری مخالفت وکړ، کله چه نورو بنی اسرائیلو دا خبری واوریدی نو بی زړه شول. او ویی غوښته چه بیرته ستانه (واپس) شی او (مصر) ته راشی، د دی تقصیر له امله (وجی) تر څلویښتو کلونو پوری د شاماتو په فتح کښی ځنډ (تعطل) پیښ شو په دی موده کښی دوی په میدانونو کښی سرېداله ګرځیدل کله چه د هغه قرن او زمانی سری مړه شول نو د همغو دوو سړیو په لاس هغه فتح پوره شوه چه له موسیٰ علیه السلام څخه وروسته د ده خلیفه ګڼل شوی وو.

﴿ إِذۡ جَعَلَ فِيكُمۡ أَنۢبِيَآءَ ﴾ کله چه وګرځول الله جل جلاله په تاسی کښی ډیر انبیاء یعنی ستاسی د اعلیٰ جد حضرت ابراهیم علیه السلام له زمانی راهیسی تر نن ورځی پوری څومره ډیر انبیاء علیهم السلام ستاسی په منځ کښی پیدا شوی دی. مثلاً حضرت اسمٰعیل، اسحٰق، یعقوب، یوسف او پخپله موسیٰ او هارون علیهم الصلوات والتسلیمات او وروسته له دوی نه هم دا سلسله تر یوی اوږدی زمانی پوری قائمه پاتی وه (چه تاسی ته به دوی ارشادات کول او پری مشرف او معزز کیدلی به!)

﴿ وَجَعَلَكُم مُّلُوكٗا ﴾ او وګرځول (الله په) تاسی (کښی یا له تاسی نه) باچایان یعنی د (فرعون) له خورا (ډیر) ذلت، سپک توب او غلامی څخه مو آزادی درکړه! او د فرعونیانو په اموالو او املاکو مو مسلط وګرځولئ! او له دی نه وړاندی ستاسی له منځه مو حضرت یوسف علیه السلام ته څرنګه د (مصر) په خزائنو او سلطنت تسلط عطاء فرمائلی ؤ. بیا وروسته مو هم حضرت سلیمان علیه السلام او نور انبیاء علیهم السلام او باچایان پیدا کړل ګواکی د دین او دنیا له دواړو لویو نعمتو سره مو تاسی ته سر لوړی درکړه. ځکه چه په دینی مناصبو کښی خورا (ډیر) لوی منصب نبوت، او په دنیا کښی آخری اقبال آزادی او باچاهی ده، چه دا دواړه شیان (**الله جل وعلا شانه**) تاسی ته ای بنی اسرایلو درعطاء او مرحمت فرمائلی دی.

﴿ وَءَاتَىٰكُم ﴾ الآیة - او در ئی کړ تاسی ته ای بنی اسرآئیلو هغه شیان چه نه ئی ورکړی ؤ هیڅ

يوه ته له خلقو د زمانی ستاسی) یعنی هر کله چه موسیٰ علیه السلام ته ئی دا خطاب وفرمایه چه پر بنی اسرآئیلو باندی د دنیا له گردو (تولو) خلقو څخه د الله تعالیٰ زیاته مهربانی او لوریدنه شوی ده (لکه من، سلویٰ، د وریځی سوری، بهول د اوبو له تیږی (ګټی) او د بحر څیرول) د ﴿ اَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِیْنَ ﴾ حمل پر عمومو باندی په ځکه صحیح نه وی چه زمونږ د محمدیه صلی الله علیه وسلم امت په نسبت په خپله په قرآن کریم کښی تصریح ده ﴿ كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ ﴾ (٤ جزء د آل عمران ۱۱۰ آیت ۱۲ رکوع) ﴿ وَكَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّسَطًا لِّتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ ﴾ (۲ جزء د البقرة ۱٤۳ آیة ۱۷ رکوع).

---

يٰقَوْمِ ادْخُلُوا الْاَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ الَّتِيْ كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ وَلَا تَرْتَدُّوْا عَلٰٓى اَدْبَارِكُمْ فَتَنْقَلِبُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿٢١﴾

---

ای قومه (زما) ننوځئ تاسی ځمکی پاکی کړی شوی (د بیت المقدس یا د شام یا د ایلیا یا د اریحا) ته هغه ځمکه چه مقرره کړی ده الله تاسی ته (په لوح محفوظ کښی په شرط د ایمان ستاسی) او بیرته مه ځئ تاسی په شاؤ خپلو (له جهاده) نو وبه ګرځئ تاسی زیانکاران (په سعی خپلی).

---

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ په خوا له دی نه له حضرت ابراهیم علیه السلام سره وعده فرمایلی وه چه ستا اولادی ته به دا ملک ورکوم، او هغه وعده هرو مرو (خامخا) پوره کیدونکی ده، هغه خلق به نیکمرغه او بختور وی چه د هغو په لاسو او وسیله دغه پوره شی.
(نو ننوځئ! دی پاکی ځمکی ته! او شا مه ګرځوئ له جهاده که نه سخت نقصان به وګالئ! «برداشت کړئ») یعنی په جهاد فی سبیل الله کښی بیزړه‌توب، ویره او بی همتی مه کوئ! او د مریتوب (غلامی) د ژوندون په لوری مندی مه وهئ!

---

قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِنَّ فِيْهَا قَوْمًا جَبَّارِيْنَ ۖ وَاِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَا حَتّٰى يَخْرُجُوْا مِنْهَا ۚ فَاِنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَا فَاِنَّا دٰخِلُوْنَ ﴿٢٢﴾

---

وویل دغو (بنی اسرآئیلو) ای موسیٰ بیشکه په دی ځمکه کښی یو قوم دی ډیر زوروړ (چه مونږ ئی د مقابلی طاقت نه لرو) یعنی ډیر قوی هیکل، میړنی، پیاوړی او له رعبه ډک او ویروونکی دی او بیشکه مونږ له سره نه

ننوځو په دغي ځمکې کښې تر هغې پورې چه ووځي دوی له دی (ځمکې نه) نو که ووځي دوی له دی ځایه (بې له جنګه) نو بیشکه مونږ ننوتونکې یو.

**تفسیر:** یعنی د مقابلې همت په مونږ کښې نشته. هو! بې د لاسونو او پښو د خوځولو څخه پخه او تیاره خوړو- تاسې د خپلې معجزې په زور دوی وباسئ!

قَالَ رَجُلٰنِ مِنَ الَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمَا ادْخُلُوْا عَلَيْهِمُ الْبَابَ ۚ فَاِذَا دَخَلْتُمُوْهُ فَاِنَّكُمْ غٰلِبُوْنَ ۚ

وویل دوو سړیو له هغو کسانو چه ویریدل (له الله نه) چه انعام (احسان) کړی ؤ الله په دوی دواړو چه ورننوځئ پر دوی (حمله کوونکی) په دروازو کښې، نو کله چه ورننوتئ تاسې دروازې ته نو بیشکه هم دا تاسې به غالبان یئ (پر هغوی ځکه چه دوی بې‌زړه دی)

**تفسیر:** دا دوه سړی یو حضرت یوشع بن نون رحمة الله علیه او بل کالب ابن یوفنا رحمة الله علیه وو چه له الله تعالیٰ ځنې ویریدل ـ نو ځکه د (عمالقه) او نورو څخه هیڅ نه ویریدل. له الله ځنې ویریده متقی شه مسلمان چه وتښتی له تاجن وانس خبیث شیطان یعنی همت وکړئ! او د ښار تر وره پورې خو لاړ شئ! نو بیا به الله تعالیٰ هم تاسې ته بری درکړی ځکه چه الله تعالیٰ د هغه چا په مدد کښې دی، چه هغه په خپله څه حرکت وکړی.

وَعَلَى اللّٰهِ فَتَوَكَّلُوْٓا اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٢٣﴾

او (خاص) پر الله پس توکل وکړئ تاسې ! که یئ تاسې مؤمنان (باور لرونکی په وعده د الله).

**تفسیر:** معلومه شوه چه د مشروعو اسبابو پریښودل «توکل» نه دی. بلکه «توکل» دا دی چه د کوم نیک کار په کولو کښې انتهائی سعی او کوښښ او آخری جداوجهد وکړ شی بیا د هغه په مثمر او منتج (نتیجه) کیدلو کښې پاک الله ته هیله (امید) او هغه ته اسره وکړئ! او په خپل زیار (محنت) او کوښښ ونه نازیږئ! او مه مغروریږئ! باقی د مشروعو اسبابو پریښودل او تش تور امیدونه او هیلی لرل، له سره «توکل» نه، بلکه تعطل دی

مؤمنه! واوره ! كه كوښښ ونه كړى! په جداوجهد او عمل
هغه كالى به اغوستلى نه شى! چه درگندلى دى خياط د ازل

قَالُوا يٰمُوسٰى إِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَا أَبَدًا مَّا دَامُوا فِيهَا فَاذْهَبْ أَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا إِنَّا هٰهُنَا قٰعِدُونَ ﴿٢٤﴾

وويل دغو (بنى اسرآئيلو) اى موسىٰ بيشكه چه مونږ له سره نه ننوځو دى ښار ته هيڅكله څو چه وى دغه (عمالقه) پكښى پس ځه ته او (ځى دى) رب ستا (يا ته او مشر ورور او مربى ستا چه هارون دى) نو جنگ وكړئ تاسى دواړه بيشكه مونږ دلته ناست يو (له جنگه، په انتظار د برى ستا)

**تفسير:** دا د هغه قوم مقوله او وينا ده چه د ﴿نَحْنُ أَبْنٰٓؤُا اللّٰهِ وَأَحِبّٰٓؤُهُ﴾ مدعيان وو. مگر داسى گستاخى او سپين سترگى كول د دوى د دائمى تمرد او پرله پسى سركشى او طغيان ځنى هيڅ لرى او مستبعده نه دى.

قَالَ رَبِّ إِنِّي لَا أَمْلِكُ إِلَّا نَفْسِي وَأَخِي فَافْرُقْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْقَوْمِ الْفٰسِقِينَ ﴿٢٥﴾

وويل (موسىٰ) اى ربه (زما) بيشكه زه مالك نه يم (اختيار نه لرم) مگر د ځان خپل او د ورور خپل (چه هارون دى) نو بيلتون (جدائى) وكړه په منځ زمونږ او په منځ د قوم فاسقانو كښى (چه د فرمان له دائرى نه وتلى دى)

**تفسير:** حضرت موسىٰ عليه السلام د دوى د دى وينا څخه خورا (ډير) زيات خپه شو، او د خپگان په حالت كښى ئى دا پورتنى دعاء وكړه. ځرنگه چه له گردو (ټولو) قومونو څخه د حكم نه منل او بى زړه توب او عصيان ليده كيده، نو ځكه ئى په دعاء كښى پرته (علاوه) له خپل ځان او له خپل ورور چه هغه هم يو معصوم نبى ؤ ، د بل چا ذكر ونه فرمايه يوشع رحمة الله عليه او كالب رحمة الله عليه هم د دوى دواړو سره طبعاً راغلل.

قَالَ فَإِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ أَرْبَعِينَ سَنَةً يَتِيهُونَ فِي الْأَرْضِ فَلَا تَأْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ ﴿٢٦﴾

نو وفرمايل (الله) پس بيشكه دغه (مقدسه ځمكه) حرامه كړى شوى ده پر دوى باندى (ننوتل هغى ته) څلويښت كاله چه حيران سرګردان به ګرځى دوى په (هم دى) ځمكه كښى، نو مه خپه (او متأسف) كيږه پر قوم فاسقانو (وتونكى له فرمانه).

**تفسير:** يعنى د بيلتون دعاء په حسى او ظاهرى ډول (طريقه) سره خو قبوله نشوه. هو! معناً بيلتون وشو چه دوى تول سره په الٰهى عذاب كښى اخته شول حيران او سرګردان به سره ګرځيدل او حضرت موسىٰ او هارون عليهم االسلام د رسالت په پوره اطمينان او داډه زړه سره خپل د ارشاد او اصلاح پر منصب قائم پاتى شول. لكه چه په كوم كلى كښى عمومى طاعون يا وبا ګډه شوى وى. او د زړهاؤ ناروغانو په منځ كښى دوه درى تنه پياوړى (مضبوط) او قوى القلب سړى وى چه د دوى په دارو او درمل، معالجه، تفقد او چاره جوړولو كښى مشغول وى كه د ﴿ فَافْرُقْ بَيْنَنَا ﴾ معنى د «بيلتون وكړه» په ځاى په «فيصله وكړه» سره شوى وى، نو دا مطلب به لا زيات واضح شوى وى. حضرت شاه صاحب ليكى چه دا ګرده (توله) قصه ئى كتابيانو ته واوروله، په دى مناسبت كه تاسى هم د نبى آخرالزمان صلى الله عليه وسلم رفاقت ونه كړئ! لكه چه ستاسى نيكه ګانو د موسىٰ عليه السلام له رفاقته سر غړولى ؤ او له جهاده شخه ئى ځانونه بيرته ايستلى وو نو دا نعمت به هم د نورو په برخه كيږى لكه چه په برخه ئى هم شو.
كه تاسى د يوى لمحى له پاره دا ګرده (توله) ركوع تر نظره تيره كړئ! او د محمدى امت پر احوالو غور وكړئ! نو دربشكاره به شى، چه پر مونږ باندى د الله تعالىٰ هغه انعامونه شوى دى چه نه په پخوانيو امتونو شوى دى او نه به ورستنيو باندى كيږى زمونږ له پاره ئى خاتم الانبياء سيدالرسل صلى الله عليه وسلم ته ابدى شريعت وركړ او راويى ليږه او په مونږ كښى ئى هغه عالمان او امامان پيدا كړل، چه سره له دى چه د نبوت منصب نه لرى، د انبياؤ عليهم السلام وظائف په ډير ښه ډول (طريقه) سره پاى (آخر) ته رسوى د نبى عليه السلام نه وروسته د ده په امت كښى داسى ښه ښه خليفګان مشران او قائدان شوى دى چه ګرد (تول) جهان ته ئى د اخلاقو، سياست او نورو د اصولو هدايت وركړى دى هم دى امت ته د «جهاد» امر هم شوى دى نه يوازى له (عمالقه ؤ) سره، بلكه د ګرد (تول) جهان د جبارينو سره. تش د (شاماتو) د ځمكو د فتح كولو له پاره نه، بلكه په شرق او غرب كښى د «كلمة الله» د اعلا او د فتنى د منځه ايستلو له پاره.
له بنى اسرآئيلو سره الله تعالىٰ د ارض مقدسه د اعطاء وعده فرمايلى وه، ليكن له دى محمدى امت سره ئى داسى وعده فرمايلى ده ﴿ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ

لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ﴾ وعده کړی ده الله له هغو کسانو سره چه ايمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه عملونه چه خامخا به خليفګان کړی دوی په ځمکه کښی لکه چه خليفګان کړی ئی وو هغه کسان چه پخوا له دوی نه وو او خامخا به ثابت کړی دوی لره دين د دوی هغه دين چه غوره کړی ئی دی دوی لره او خامخا به بدل ورکړی دوی لره پس له ويری د دوی امن ، عبادت به کوی دوی زما ، شريک به نه پيدا کوی دوی له ما سره هيڅ شی، او هر څوک چه کافر شو وروسته له دی نه پس دغه کسان هم دوی دی فاسقان» (١٨ جزء د النور ٥٥ آيت ٧ رکوع)

که موسیٰ عليه السلام بنی اسرائيلو ته له جهاده څنی د تښتيدلو ممانعت فرمايلی ؤ نو زمونږ محمدی صلی عليه وآله وسلم امت ته هم الله تعالیٰ هم داسی خطاب فرمايلی دی

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا زَحْفًا فَلَا تُوَلُّوهُمُ الْأَدْبَارَ ﴾ ای مومنانو کله چه ملاقات وکړئ (مخامخ شئ په جنګ کښی) تاسی له هغو کسانو سره چه کافران شوی دی حال دا چه دوی غونډ وی د جنګ په ډګر کښی، نو مه ګرځوئ دوی ته شاوی خپلی په نيت د تيښتی» (٩ جزء١٥ آيت د الانفال ٢ رکوع).

انجام ئی دا شو چه د حضرت موسیٰ عليه السلام رفيقان له (عمالقه ؤ) څخه وويريدل او هسی بی‌زړه‌توب ئی وکړ، چه خپل نبی عليه السلام ته ئی داسی وويل ﴿ فَاذْهَبْ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ ﴾ ځه ته او رب ستا نو وجنګيږئ تاسی! دواړه بيشکه مونږ دلته ناست يو».

ليکن د محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم اصحابو د خپل پاک نبی صلی الله عليه وسلم په حضور کښی د «بدر» د غزا په مشوره کښی په لوړ غږ او جګ (اوچت) آواز داسی عرض وکړ «پر الله تعالیٰ قسم دی چه که تاسی د ترخه سيند (لوی بحر) په موجونو کښی د ننوتلو حکم مونږ ته وکړی مونږ به په هغه کښی هم خپل ځانونه ورګوزار کړو، او يو تن به هم له مونږ څخه پاتی نشی. او اميد دی چه الله تعالیٰ به تاسی ته زمونږ له پلوه داسی شيان دروښيی ، چه د هغو له ليدلو څخه به ستاسی سترګی خوشاله او روښانه شی، مونږ به له خپل پاک رسول صلی الله عليه وسلم سره ملګری يو، او له ده سره به يو ځای جهاد ته ځو، او له ده نه به وړاندی ، وروسته، ښی او کيڼ طرف ته جنګيږو، او جهاد به کوو. د الله تعالیٰ په فضل مونږ له هغو کسانو څخه نه يو، چه موسیٰ عليه السلام ته ئی ويلی وو ﴿ فَاذْهَبْ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ ﴾ د دی تعهد نتيجه داسی شوه چه په هومره موده کښی چه بنی اسرائيل له فتوحاتو څخه بی برخی او د (تيه) په صحرا او ميره کښی سرګردانه ګرځيدل، له هغه څخه په لږه موده کښی زمونږ د محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم اصحابو په مشرق او مغرب کښی د هدايت او د ارشاد بيرغونه ودرول ﴿ رَّضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُ ﴾

## وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ ابْنَيْ اٰدَمَ بِالْحَقِّ

او ولوله (ای محمده!) پر دغو (بنی اسرائیلو یا پر قوم خپل) خبر د دواړو ځامنو د آدم (چه هابیل او قابیل وو) په حقه سره

**تفسیر:** یعنی د آدم علیه السلام د دوو صلبی ځامنو (قابیل) او (هابیل) قصه او واقعی حال دوی ته واوروه! ځکه چه په دی قصه کښې د هغه یوه ورور ذکر دی چه د خپل بل ورور پر مقبولیت او تقوىٰ ئی حسد او رخه (کینه) کړی وه او په هم دی غیظ او قهر سره ئی هغه په ناحقه سره وواژه او د ناحقی وینی د عواقبو بیان پکښې کړی شوی دی
په رومبی رکوع کښې راښودلی شوی وو کله چه (بنی اسرآئیلو) ته دا حکم ورکړ شو چه له ظالمانو او جابرانو سره قتال وکړئ! نو دوی وویریدل او تری وتښتیدل اوس د (هابیل) او (قابیل) قصه اوږول د دی خبری له پاره تمهید دی چه د متقیانو او مقبولو بندګانو قتل له ډیرو شدیدو جرائمو څخه دی او له هغه څنی خلق په ډیر بی انتهاء تهدید او تشدید سره منع کړی شوی دی، نو د هغه له پاره دا ملعونان څرنګه تل مستعد او تیار په نظر راځی. پخوا له دی نه هم دوی ډیر انبیاء وژلی وو. او اوس هم د الله تعالیٰ د ډیر لوی رسول صلی الله علیه وسلم په خلاف د بغض او حسد له لاری راز راز(قسم قسم) پلمی (منصوبی) او حیلی جوړوی. ګواکی د ظالمانو او شریرانو له مقابلی څنی ځانونه ایستل او د معصومو او بیګناهو بندګانو وژل او د هغوی پر خلاف د قتل او بندی کولو سازشونه او پلمی (منصوبی) جوړول د دی قوم دود (رواج) او دستور دی. او سره له دی د ﴿ نَحْنُ اَبْنٰٓؤُا اللّٰهِ وَاَحِبَّآؤُهٗ ﴾ دعوی هم کوی. له دی تقریره سره سم د (قابیل) او (هابیل) قصه او بیا پر دی باندی د ﴿ مِنْ اَجْلِ ذٰلِكَ ۛۚ كَتَبْنَا عَلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴾ الآیة - تفریع، دا ګرد (ټول) به د هغه مضمون له پاره تمهید وی چه د دی قصی او د تفریع په پای (اخر) کښې ئی فرمایی ﴿ وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِالْبَيِّنٰتِ ثُمَّ اِنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ بَعْدَ ذٰلِكَ فِى الْاَرْضِ لَمُسْرِفُوْنَ اِنَّمَا جَزٰٓؤُا الَّذِيْنَ يُحَارِبُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ﴾ الآیة -

## اِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا فَتُقُبِّلَ مِنْ اَحَدِهِمَا وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ الْاٰخَرِ

کله چه نژدی کړه دواړو قربانی (د پسه او د غنمو د ستری الله ته) نو قبول کړ شو (پسه) له یوه د دی دواړو نه (چه هابیل ؤ) او قبوله نشوه (د غنمو ستری) له بله (چه قابیل ؤ)

**تفسیر:** یعنی د هغی جینئ نکاح چه آدم علیه السلام له خپل دستور سره سم له (هابیل) سره وتړله (قابیل) د هغی غوښتونکی شو، آخر د آدم علیه السلام په اشاره سره دوی دواړو د الله

تعالیٰ په دربار کښې څه نذر وړاندې کړ، تر څو دغه جينئ د همغه چا شي چه نذر ئې د پاک الله په دربار کښې مقبول شي. آدم عليه السلام ته داسې يقين پيدا شوی ؤ چه هم دا د (هابيل) نذر به ومانه شي لکه چه هم داسې هم وشو او آسماني اور ښکاره شو، او د (هابيل) نذر ئې يووړ او هم دا په هغه وخت کښې د «قبول عندالله» قرينه او علامه وه.

قَالَ لَاَقْتُلَنَّكَ ؕ

وويل (قابيل) چه خامخا به ووژنم تا هرومرو (خامخا) (ای هابيله!)،

**تفسير:** يعنې (قابيل) د دې مقبوليت له ليدلو څخه د حسد او رخې (بغض) په اور کښې وسوځيد. او د دې په ځای چه د مقبوليت وسائل ځان ته غوره کړي، له ډيره غيظه او غضبه ئې په خپل حقيقي ورور باندې د وژلو توربرېښ وکړ.

قَالَ اِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللّٰهُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿٢٧﴾

وويل (هابيل قابيل ته) چه بيشکه هم دا خبره ده چه قبلوی الله (قرباني) له پرهيزګارانو نه.

**تفسير:** يعنې (هابيل) وويل چه په دې کښې زما څه قصور دی ، د الله تعالیٰ په دربار کښې د هيچا زور او قوت نه چليږي او يواځې هلته تقویٰ پکاريږي، ګواکې زما هغه نذرانه چه مقبوله شوه، د هغې سبب تقویٰ وه که ته هم ځان ته تقویٰ غوره کړې نو الله تعالیٰ له تا سره څه مخالفت نه لري.

لَئِنْۢ بَسَطْتَّ اِلَيَّ يَدَكَ لِتَقْتُلَنِيْ مَاۤ اَنَا بِبَاسِطٍ يَّدِيَ اِلَيْكَ لِاَقْتُلَكَ ۚ اِنِّيْۤ اَخَافُ اللّٰهَ رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٨﴾

قسم دی خامخا که دې راوغځاوه تا (ای قابيله) ماته لاس خپل دپاره د دې چه ته ووژنې ما نو نه يم زه غځوونکی د لاس خپل تاته چه ووژنم تا بيشکه زه ويريږم له الله چه رب (پالونکی د ګردو (ټولو)) عالميانو دی.

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب فرمائی که څوک په ناحقه سره بل وژنی، نو ده ته اجازه شته چه هغه ظالم ووژنی او که صبر وکړی، نو د شهادت درجه به مومی» او دا حکم د خپل مسلمان ورور په مقابل کښی دی که نه چیری چه شرعاً د انتقام او شرعی مدافعی مصلحت او ضرورت وی هلته مات لاس او پښه کیناستل جائز نه دی، مثلاً له باغیانو او کافرانو سره قتال په کار دی ﴿وَالَّذِينَ إِذَآ أَصَابَهُمُ الْبَغْيُ هُمْ يَنتَصِرُونَ﴾ «۲۵» جزء د الشوریٰ (۳۹) آیت ٤ رکوع) ﴿إِنِّيٓ أَخَافُ اللَّهَ﴾ الآیة - بیشکه زه ویریږم له الله چه پروردگار د گرد (تول) جهان دی) یعنی زه له تا څخه نه ویریږم. بلکه له الله تعالیٰ څخه ویریږم او غواړم تر هغه پوری چه شرعاً امکان وی، د خپل ورور په وینو خپل لاسونه ونه لړم. ایوب سختیانی رحمة الله علیه به ویل په محمدی صلی الله علیه وسلم امت کښی هغه ړومبی سړی چه په دی آیت ئی عمل وکړ، او خلقو ته ئی خپل دا تعمیل ورښکاره کړ، صاحب الحیاء والایمان ، جامع آیاة القرآن حضرت ذی النورین سیدنا (عثمان بن عفان) رضی الله عنه ؤ «ابن کثیر» چه ده خپل سر جار (قربان) کړ ولی په دی باندی خوښ او رضاء نشو، چه د ده د سر په مقابل کښی د یوه مسلمان گوته هم پری شی. رضی الله تعالیٰ عنه.

---

إِنِّيٓ أُرِيدُ أَن تَبُوٓأَ بِإِثْمِي وَإِثْمِكَ فَتَكُونَ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلنَّارِ ۚ وَذَٰلِكَ جَزَٰٓؤُا۟ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٩﴾

---

په تحقیق زه اراده لرم د دی چه رجوع وکړی (اخته شی) ته په گناه د (وژلو) زما او په گناه خپلی (چه پخوا دی کړی ده) نو شی به ته له صاحبانو (ملگریو) د اور (د دوزخ) او هم دا (اور) دی جزا د ظالمانو (چه په ناحقه وینی تویوی)،

---

**تفسیر:** یعنی زما د قتل گناه هم له خپلو نورو گناهو سره یو ځای کړه، ستا د گرد (تول) عمر گناهونه ستا پر غاړه ثابت دی. او زما د وینی گناه به هم لا پری زیاته شی، او د مظلومیت له امله (وجی) به زما گرد (تول) گناهونه رامعاف شی. «موضح القرآن» ابن جریر رحمة الله علیه د مفسرینو اجماع نقل کړی ده چه «باثمی» معنی هم دا ده. باقی هغه کسان چه دا ئی لیکلی دی، چه په قیامت کښی به د مظلوم گناه په ظالم باندی اچوله کیږی، هغه مضمون هم په یوه حیثیت سره صحیح دی. مگر د محققینو په نزد هغه د دی آیت تفسیر نه دی. اوس د (هابیل) د کلام حاصل دا دی «که تا هم داسی نیت کړی وی، چه زما د وژلو وبال پر خپله غاړه واخلی، نو ما داسی اراده کړی ده چه د خپل ځان هیڅ مدافعه له خپله لوری ونه کړم، تر څو چه د عزیمت د ترک خبره هم پر ما باندی رانشی.»

فَطَوَّعَتْ لَهُ نَفْسُهُ قَتْلَ اَخِيْهِ

نو ښائسته کړ دغه (قابيل) ته (اماره) نفس د ده وژل د ورور د ده (چه هابيل ؤ)

**تفسير:** ښائی په ابتداء کښی لږ څه ويره او خوف ور پيدا شوی وی او ورو ورو اماره نفس به دا خيال پوخ کړی وی. او هم دا کيفيت عموماً د معاصيو په ابتدا کښی پيدا کيږی.

فَقَتَلَهُ فَاَصْبَحَ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿٣٠﴾

بيا وواژه (قابيل) دغه (هابيل) نو وګرځيد (قابيل په دنيا او عقبیٰ کښی په سبب د قتل د هابيل) له زيان کارانو

**تفسير:** دنيوی خسران خو دا دی چه داسی يو ښه ورور ئی له لاسه وايست چه د ده مټ او ملاتړ ؤ او پخپله ليونی او مړ شو.
په حديث شريف کښی راغلی دی «ظلم» او «قطع رحم» دا دواړه داسی ګناهونه دی چه له آخرته پخوا په هم دی دنيا کښی د هغو سزا ورکوله کيږی» او اخروی خسران ئی دا دی چه په دنيا کښی د ظلم، قطع رحم ، قتل عمد ـ او د بدامنی د دروازی له خلاصولو څخه (قابيل) د هغو ګردو (تولو) ګناهونو د سزا مستوجب هم کيږی، چه وروسته له دی نه له دی نوعی ګناهونو څنی په دنيا کښی وکړی شی، او دی به په هغو ګردو (تولو) کښی د بانی کيدلو له وجی شريک ګڼه شی، لکه چه په حديث شريف کښی هم مصرح ده.

فَبَعَثَ اللّٰهُ غُرَابًا يَّبْحَثُ فِی الْاَرْضِ لِيُرِيَهٗ كَيْفَ يُوَارِیْ سَوْءَةَ اَخِيْهِ ۭ قَالَ يٰوَيْلَتٰٓى اَعَجَزْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِثْلَ هٰذَا الْغُرَابِ فَاُوَارِیَ سَوْءَةَ اَخِیْ ۚ فَاَصْبَحَ مِنَ النّٰدِمِيْنَ ﴿٣١﴾

نو ولیږه الله يو کارغه چه کوګانی ئی کاوه په ځمکه کښی (په مښوکه او پنجو خپلو سره) له پاره د دی چه وښيی دغه (قابيل) ته چه څرنګه پټه کړی

جته د ورور خپل (هابیل)، وویل (قابیل) ای افسوسه زما راشه دغه دی وخت دی (یعنی افسوس دی ماته) آیا عاجز وم زه له دی چه کیدی په شان د دی کارغه (په پوهه کښی) نو پته کړی به می وه جثه د ورور خپل، نو وګرځید (قابیل په دی قتل د هابیل سره) له پښیمانی کوونکو څخه.

**تفسیر:** کله چه پخوا له دی نه بل کوم انسان نه ؤ مړ. نو ځکه (قابیل) پس له وژلو د (هابیل) څخه نه پوهیده چه دی د خپل وروړ له مړی سره څه وکړی؟ تر څو چه ئی یو کارغه ولید چه په ځمکه کښی کنده کینی ـ او د بل کوم کارغه مړی په کښی پټوی، نو د هغه له لیدلو څخنی د (قابیل) سر ته څه عقل ورغی او له خپله ځانه سره ئی وویل چه «ښائی زه هم د خپل وروړ مړی په ځمکه کښی هم داسی خښ کړم» او ده ته ارمان او افسوس هم ورغی چه «زه په پوهه عقل او فهم او له ورور سره په خواخوږی او همدردی ـ کښی له دی کارغه څخه هم ښکته یم.» ښائی چه حق تعالیٰ د دی له امله (وجی) د یوه ادنیٰ ساکښ (ذی روح) په وسیله (قابیل) ته داسی تنبیه ورکړه چه هغه له خپله وحشته او حماقته لږ څه وشرمیږی ، او متأثر شی په ساکښانو (ذی روحو) کښی د کارغه دا خصوصیت دی چه دی د خپل ورور د مړی په ښکاره پاتی کیدلو باندی ډیر زیات شور ماشور کوی.

﴿ فَأَصۡبَحَ مِنَ ٱلنَّٰدِمِينَ ﴾ نو وګرځید قابیل په دی قتل د هابیل سره له پښیمانی کوونکو څخه) هغه افسوس او ارمان ښه نافع دی چه له ګناه څخنی معذرت او انکسار او فکر او تدارک هم وی. په دی موقع کښی د (قابیل) افسوس او ارمان کول د الله تعالیٰ په عصیان او نافرمانی نه ؤ بلکه په خپل هغی بدحالی باندی ؤ چه د خپل هغه ورور (هابیل) له وژلو څخه وروسته ور رسیدلی وه.

مِنۡ أَجۡلِ ذَٰلِكَ كَتَبۡنَا عَلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ أَنَّهُۥ مَن قَتَلَ نَفۡسَۢا بِغَيۡرِ نَفۡسٍ أَوۡ فَسَادٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ ٱلنَّاسَ جَمِيعٗا وَمَنۡ أَحۡيَاهَا فَكَأَنَّمَآ أَحۡيَا ٱلنَّاسَ جَمِيعٗاۚ

په سبب د دی (قتل) لیکلی وو (حکم کړی ؤ) مونږ پر بنی اسرائیلو (اولاده د یعقوب) چه بیشکه شان دا دی هر څوک چه ووژنی یو نفس بی له (عوض، بدل د) بل نفس نه (یا بی) له فساده په ځمکه کښی (چه په ملک کښی ئی فساد کړی وی) نو ګواکی وژلی ئی دی خلق ټول، او هر چا چه ژوندی کړو دغه (یو نفس چه سبب شی د ژوندون یی) نو ګواکی ژوندی کړی ئی دی خلق ټول،

**تفسیر:** یعنی په ناحقه قتل کښې ډیر دنیوی او اخروی خسران دی. او خورا (ډیر) خرابی نتیجې وربانډی مرتبیږی. تر دی چه په خپله قاتل هم د دی حرکت څخه وروسته ډیر افسوس او ارمان کوی او یو لاس پر بل لاس موښی نو له دی سببه مونږ بنی اسرائیلو ته داسی هدایت ورکړ (چه بیشکه شان دا دی هر څوک چه ووژنی یو نفس بی له عوض او بدل د بل نفس څخه یا بیفساده په ځمکه او ملک کښې نو ګواکی وژلی ئی دی خلق تول،) یعنی بی له دی چه هغه څوک وژلی وی او پری قصاص ئی کړی. په ملک کښې د فساد اچولو ډیر صورتونه دی. مثلاً العیاذ بالله اهل حق له حق دین څخنی منع کړی یا د انبیاء علیهم السلام اهانت وکړی یا مرتد شی او د دی خبری وسیله وګرځی چه نور کسان هم له خپله ځانه سره مرتد او بی دینی ته ئی ترغیب کړی، (یا لاره وهل یا زنا د محصن) وقس علیٰ ذلک.(او هر چا چه ژوندی کړ یو نفس چه سبب شی د ژوندون ئی نو ګواکی ژوندی کړی ئی دی خلق تول،) ړومبی د ځمکی په مخ کښې لویه ګناه هم دا پیښه شوه چه «قابیل» د «هابیل» قاتل شو او وروسته له هغه ناحقه قتل رسم شو. نو ځکه په «تورات» کښې داسی فرمایل شوی دی «که څوک یو سړی وژنی ګواکی چه ګرد (تول) خلق وژنی» یعنی د یوی ناحقی وینی له تویولو څخنی نور هم پر هغه جرم زړور کیږی نو په دی حیثیت سره هر هغه سړی چه بل وژنی ګواکی د بدامنی تاداو (بنیاد ) ږدی او هغه د ګردو (تولو) انسانانو د وژلو او د عمومی بدامنی ور، پرانیځی او هغه څوک چه یو سړی ژوندی کوی یعنی د کوم ظالم قاتل له لاسه ئی ژغوری (ساتی) ګواکی دی په خپل دی عمل سره نورو ګردو (تولو) انسانانو ته هم د ژغورلو (ساتلو) او مأمون پاتی کیدلو دعوت ورکوی او دغی نیکی ته دوی ګرد (تول) سره رابولی.

---

وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِالْبَيِّنٰتِ ثُمَّ إِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم بَعْدَ ذٰلِكَ فِى الْأَرْضِ لَمُسْرِفُونَ ﴿٣٢﴾

---

او خامخا په تحقیق راغلی وو دوی ته رسولان زمونږ په حکمونو ښکاره بیا په تحقیق سره ډیر له دوی نه پس له دی (راتلو د رسولانو نه هم) په ځمکه (په ملک) کښې خامخا مسرفان (له حده تیریدونکی) دی.

---

**تفسیر:** شیخ الهند رحمة الله علیه له «بینات» څخه ښکاره حکم مراد کړی دی او دا هم ممکن دی چه له «بینات» څخه هغه ښکاره معجزی او دلائل مراد وی چه هغو سره د کوم رسول د ﴿مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ﴾ کیدلو تصدیق وکړی شی. یعنی د (بنی اسرائیلو) دیرو خلقو داسی ښکاره آثار لیدلی دی او ډیر هسی ښکاره حکمونه ئی اوریدلی دی. خو سره له هغه هم له خپل ظلمه او

طغيانه او تيرى څخه ئې لاسونه نه دى اخيستى. د معصومو انبياؤ عليهم السلام وژل او په خپلو منځو كښې ناحقې وينې تويول، د دوى دائمى عادت دى او نن ورځ هم د خاتم الانبياء صلى الله عليه وسلم د قتل (معاذالله) يا ايذاء او د مسلمانانو آزار او تذليل له پاره هر راز (قسم) ناولى پلمى (منصوبى) او سازشونه كوى او دومره نه پوهيږى كله چه د «تورات» له حكم سره سم د يو سړى وژل په هر ډول (طريقه) سره چه وى دومره لوى جرم دى چه ګواكى د هغه قاتل د ګرد (تول) جهان د انسانانو قاتل دى نو د دنيا له ګردو (تولو) څخه زيات كامل او اكمل انسان او له ګردو (تولو) څخنى د مقبول او مقدس جماعت قتل او ايذاء پسى لويدل او له دوى سره جنګ او مقابلى ته ملا ترل د الله تعالىٰ په نزد ډير درونډ او لوى جرم دى. د الله تعالىٰ له رسولانو او استاځيو سره جنګيدل ، په حقيقت كښى له حق تعالىٰ سره جنګيدل دى. ښايى د دى له امله (وجى) په دغه راتلونكى آيت كښى د هغو خلقو د دنيوى او اخروى سزاګانو ذكر كړى شوى وى چه له الله جل جلاله او له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره جنګيږى يا په دنيا كښى راز راز(قسم قسم) فسادونه خوروى او خپل ځانونه د «**مسرفون فى الارض** مصداق ګرځوى.

---

إِنَّمَا جَزَٰٓؤُاْ ٱلَّذِينَ يُحَارِبُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَسۡعَوۡنَ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوٓاْ أَوۡ
يُصَلَّبُوٓاْ أَوۡ تُقَطَّعَ أَيۡدِيهِمۡ وَأَرۡجُلُهُم مِّنۡ خِلَٰفٍ أَوۡ
يُنفَوۡاْ مِنَ ٱلۡأَرۡضِۚ ذَٰلِكَ لَهُمۡ خِزۡيٞ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَ
لَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٣٣﴾

---

بيشكه هم دا خبره ده چه جزا د هغو كسانو چه جنګ كوى دوى له (دوستانو) د الله او د رسول د ده سره او سعى كوى (منډى وهى) دوى په ځمكه (په ملک) كښى له پاره د فساد (او بدامنى غورځولو) چه دوى وژلى شى يا دى په دار كړ شى يا دى پرى كړى شى لاسونه د دوى او پښې د دوى سره مخالفې (يعنى ښى لاس او كيڼه پښه يا عكس د دى) يا دى وشړلى شى له ځمكى (په حبس سره يا له هغه ځايه بل لرى ځاى ته) دا (مذكوره جزا) دغو (غلو) ته رسوايى ده په دنيا كښى او (شته) دغو (غلو) ته په آخرت كښى عذاب ډير لوى،

---

**تفسير:** اكثر مفسرين له دى څخه لاره شوكول او داړه اچول مرادوى مګر كه دا الفاظ په خپل عموم باندى پريښود شى نو مضمون لا وسيع كيږى د دى آيت هغه شان نزول چه په صحيحو

احاديثو کښې راغلې دي هغه هم د هم دې مدعا مقتضی دي چه دا الفاظ پر خپل عموم پريښود شي. «له الله جل جلاله يا د ده له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره جنګ کول» يا «په ځمکه کښې فساد يا بدامنی خورول» دا دواړه لفظونه داسې دي چه په دې کښې د کفارو حملې د ارتداد، فتنې، لار شکول، داړه اچول ناحق قتل، نهب مجرمانه پلمې(منصوبې)، اغوا کوونکې نشرات مضر، تبليغات ګرد (تول) سره داخليدې شي او له دې ځنې هر يو جرم داسې دی چه د هغه مرتکب له دې څلورو واړو سزاګانو څخه چه پاس په دې آيت کښې ذکر شوې دي د يوی نه يوی هرومرو (خامخا) مستحق ګرځي د غلو احوال څلور صورتونه لرې

۱. چه مرګ ئې کړی وی مګر مال وړلو ته ئې وار نه وی رسيدلی. (نو داسې غله دې مړه کړی شی!)

۲. چه هم ئې مرګ کړی وی او هم ئې مال وړی وی. (نو داسې غله دې وروسته له وژلو پر دار کړی شی!)

۳. چه مال ئې لوټ کړی وی خو مرګ ئې نه وی کړی.(نو د داسې غله دې لاسونه او پښې سره مخالفې پرې کړی شی.)

٤. چه نه ئې وژل کړی وی او نه ئې مال وړی وی. او د قصد او تياری نيولو څخه وروسته نيول شوی وی، (نو داسې غله دې په بندی کولو سره د ځکې له مخ څخه ورک شی) په دغو څلورو حالتونو کښې بالترتيب هم دا څلور سزاګانې مقرر دي چه پاس (په آيت او بين القوسين کښې) ذکر شوی دی. د غلو بل کوم لرې ځای ته فرارول او هلته ئې بندی کول او قيد ساتل زمونږ د امام اعظم ابو حنيفه نعمان بن ثابت بن زوطی بن ماه رحمه الله) مذهب دی.

---

إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِن قَبْلِ أَن تَقْدِرُوا عَلَيْهِمْ ۖ فَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٤﴾

---

مګر هغه کسان چه توبه وباسی پخوا له هغه نه چه قادر شی (تاسی) پر هغوی باندی (نو دا حدود الله ترې ساقطيږي) نو پوه شئ په دې چه بيشکه الله ښه مغفرت کوونکی ډير رحم والا دی.

---

**تفسير:** يعنې دا پاس ذکر شوی سزاوی چه د حدودالله او «حق الله» پر دول (طريقه) دی، دا ګردی (تولی) پخوا له نيولو څخه په توبه ايستلو سره معافيدې شي مګر حقوق العباد نشي معافيدلی يعنې که د چا مال ئې اخيستی وی نو ضمان ورکول پرې اوړی که قتل ئې کړی وی نو قصاصيږي. هو د دې شيانو معافول د مال د خاوند او د مقتول د ولي حق دی.

**تنبيه:** له دې حد څخه ماسوا نور حدود په توبه باندی له سره نه ساقطيږي لکه د زنا حد، د

شرب الخمر حد، د سرقی حد، د قذف حد.

## يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَابْتَغُوا إِلَيْهِ الْوَسِيلَةَ

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مومنانو!) ووېرېږئ تاسی له الله او طلب کړئ! ده ته وسیله (په طاعت سره)

**تفسیر:** د «الوسیلة» تفسیر ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه مجاهد، ابووائل، حسن او نورو اسلافو او مشرانو رحمهم الله په «قربت» سره کړی دی نو د وسیلی لتولو معنی به دا وی چه د هغه د قرب وسیله ولتوئ! قتاده رحمة الله علیه ویلی دی «**ای تقربوااليه بطاعته والعمل بما يرضيه** د الله تعالیٰ نژدیوالی حاصل کړئ! په حکم منلو د ده او په غوره عمل» یو شاعر وایی اذاغفل الواشون عدنا لوصلنا - و عادالتصافی بیننا والوسائل
په دی کښی هم دغه د قرب او اتصال معنی مراده ده. او هم داسی دی هغه چه په حدیث کښی راغلی دی چه «وسیله» په جنت کښی یو ډیر ښه اعلیٰ منزل دی چه د دنیا کوم یوه بنده ته وررسیږی. رسول الله مبارک ارشاد فرمایلی «ورروسته له آذانه له الله جل جلاله څخنی زما له پاره هم دغه مقام وغواړئ!» نو د هغه مقام نوم هم «وسیله» د هم دی له امله (وجی) ایښی شوی دی چه د جنت له ګردو (ټولو) منازلو څخنی هغه مقام (عرش الرحمٰن) ته نژدی دی او د حق تعالیٰ د قرب په مقاماتو کښی له ګردو (ټولو) څخه پاس واقع دی. په هر حال ړومبی ئی وفرمایل چه ووېرېږئ! له الله جل جلاله څخنی ، لیکن دا وېریدل داسی نه دی لکه چه سړی له مار یا لړم یا څمری یا لیوه یا نورو څخنی وېرېږی.؟ او تری لری تښتی بلکه له دی خبری څخه ووېرېږئ چه د ده له خوښی او رحمت څخه لری چیری ونه لوېږئ! نو ځکه ئی وروسته له ﴿اتَّقُوا اللَّهَ﴾ څخه ﴿وَابْتَغُوا إِلَيْهِ الْوَسِيلَةَ﴾ وفرمائل یعنی د ده له ناخوښی، لرېوالی او بیلتون څخه ووېرېږئ! او د وصول او قرب الی الله د حصول له پاره کوښښ وکړئ. او ښکاره ده چه له کوم شی سره مونږ هلته قریب کیدی شو چه تر هغه پوری د رسیدلو ګردی (ټولی) لاری قطع او پری کړو او پر هغی باندی په تللو هغه ته ورسیدی شو نو د هم دی په نسبت فرمایی ﴿وَجَاهِدُوا فِي سَبِيلِهِ﴾ وکړئ د ده په لاره کښی یعنی پر هغی باندی د تللو ښه پوره کوښښ وکړئ ﴿لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ خو تاسی د هغه قرب حاصل کړئ او په خپل مراد ورسیږئ او بریالیان (کامیاب) شئ!»

## وَجَاهِدُوا فِي سَبِيلِهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٣٥﴾

او جهاد وکړئ په لاره د ده کښی (د کلمة الله د اعلاء په غرض) له پاره د دی چه په مراد ورسیږی (خلاص شئ له عذابونو)

**تفسیر:** په وړومبی رکوع کښی ئی د هغو کسانو د دنیوی او اخروی سزاګانو بیان وفرمایه چه له الله او د ده له رسول صلی الله علیه وسلم سره جنګونه کوی او په ملک کښی بدامنی او فساد اچوی په دی رکوع کښی مسلمانان له هماغو سزاګانو څنی ویروی او ورښیی کله چه شقی او بدبخت خلق له الله او له رسول الله سره جنګ وکړی نو تاسی د الله او رسول له خوا «جهاد» وکړئ! او که دوی په ځمکه کښی فساد خوروی نو تاسی په خپل کوښښ او ښه عمل سره د امن او آرامی د قائمولو له پاره فکر او کار وکړئ!

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ أَنَّ لَهُم مَّا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا وَمِثْلَهُ مَعَهُ لِيَفْتَدُوا بِهِ مِنْ عَذَابِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَا تُقُبِّلَ مِنْهُمْ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٣٦﴾

بیشکه هغه کسان چه کافران شوی دی که وی دوی ته هغه (اقسام د اموالو)چه په ځمکه کښی دی ټول او په قدر د دی نور (هم) له دی سره شی دپاره د دی چه فدیه وکړی دوی په هغه سره له عذابه د ورځی د قیامت څخه نو قبوله به نه کړه شی (دا فدیه) له دوی څخه او شته دوی ته عذاب ډیر دردناک.

**تفسیر:** په پخوانی آیت کښی دا ښودلی شوی وو چه انسان له الله جل جلاله څنی په ویریدلو او د ده د قرب په حاصلولو ـ او د ده په لاره کښی په «جهاد» کولو سره د فلاح او بری امید او هیله (ارزو) کولی شی. په دی آیت کښی ئی تنبیه فرمایلی ده هغه کسان چه له الله تعالیٰ څخه غاړه غړوی، که په آخرت کښی د ځمکی د منځ ګردی (تولی) خزانی، بلکه له هغو څخه زیات هم صرف کړی ـ او په هغو سره د الله جل جلاله له عذاب څخه د خپل ځان ژغورنه (حفاظت) وغواړی، نو قبول به نشی ـ الغرض د آخرت بری او کامیابی په «تقویٰ»، «ابتغاء الوسیله» او په «جهاد فی سبیل الله» سره حاصلیدی شی ـ او په رشوت او فدیه او نورو پلمو (منصوبو) سره له سره نه حاصلیږی.

يُرِيدُونَ أَن يَخْرُجُوا مِنَ النَّارِ وَمَا هُم بِخَارِجِينَ مِنْهَا ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴿٣٧﴾

اراده به کوی (غواړی به) دوی چه ووځی دوی له اوره (د دوزخ) حال دا چه نه به وی دوی وتونکی له هغه اوره او شته دوی ته عذاب دائم (بی انتهاء بلا انقطاع)

**تفسیر:** له ډیرو احادیثو ثخه ثابته شوی ده چه ډیر ګناهګار مؤمنان به تر یوی مودی پوری په دوزخ کښی پاتی کیږی ـ او بیا به ایستلی کیږی ـ او د الله تعالیٰ په فضل او مرحمت سره به جنت ته داخلیږی ـ دا آیت له دغو احادیثو ثخه مخالف نه دی ـ ځکه دلته به دی آیت کښی له ابتداء ثخه یواځی د کفارو حال بیان شوی دی، او د مؤمنانو په نسبت هیڅ یوه خبره نشته.

وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوٓا أَيْدِيَهُمَا جَزَآءًۢ بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِّنَ اللّٰهِ ۗ وَاللّٰهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٣٨﴾

او غل (نارینه) او غله (ښځه) نو پری کړئ تاسی لاسونه د دوی (دواړو) دپاره د جزا د هغه عمل چه کړی دی دواړو د تنبیه له پاره له جانبه د الله او الله ډیر قوی دی (غالب په انفاذ د احکامو) ښه حکمت والا (چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی).

**تفسیر:** یعنی که اول ځلی غلا وکړی نو ښی لاس ئی له بنده پری کړئ! نور تفاصیل ئی د فقهی په کتابونو کښی موندل کیږی، په پخوانی رکوع کښی د داړی او نورو سزاګانو ذکر شوی ؤ ـ په منځ کښی د ځینو مناسباتو له امله (وجی) چه مونږ د هغو بیان کړی دی، مؤمنانو ته ځینی نور ضروری پندونه ورکړ شول، اوس بیا همغه پخوانی مضمون تکمیلوی ـ یعنی هلته د داړی سزا مذکوره شوی وه. په دی آیت کښی د غلا سزا راښیی ﴿ جَزَآءً ﴾ الآیة ـ یعنی هغه سزا چه غله ته ورکوله کیږی هغه د مسروقه مال سزا نه ده بلکه د ده د فعل «سرقی» سزا ده. تر څو چه په هغه سره نور غله ویښ او تنبیه شی. بلاشبهه په هر هغه ځای کښی چه دا حدود جاری کیږی نو دوه ـ دری غلو ته د سزا ورکولو ثخه وروسته د غلا ور بیخی بندیږی نن ورځ د نوی «تهذیب مدعیان» دا راز حدود وحشیانه سزا بولی. لیکن که غلا کول د دی صاحبانو په نزد «یو مهذب کار» نه وی ـ نو یقیناً د دوی «مهذبه» سزا د دی غیر مهذب کار (غلا) استیصال او له منځه وړلو کښی له سره مؤثره نشی واقع کیدی. که د لږ ثه «وحشت» په تحمل سره ډیر غله مهذب شی ـ نو ښائی چه دغه د تهذیب حاملان او مدعیان خوښ شی ـ ځکه چه د دوی له «تهذیبی مشین» سره دغه «وحشت» مدد کوی. ځینی په نامه مفسرین هم په دی کوښښ کښی دی چه « **قطع الید** لاس پری کول» د غلا انتهائی سزا وتاکی! (مقرر کړی) او له دی ځنی ښکته او

خفيفه سزا له حق شريعت څخه حاصله او استخراج کړی مګر مشکل خو دا دی چه له دی ځنی ښکته سزا نه په قرآن کريم کښی چيری شته - او نه د نبوت په عهد او د لويو اصحابو په زمانو کښی د هغی کوم نظير او مثال ليدلی شوی دی. آيا کوم سری داسی دعوی کولی شی چه په دومره اوږده زمانه کښی په هغو غلو کښی چه نيولی شوی دی يو تن هم ابتدائی غل نه ؤ، چه پر هغه باندی يواځی د جواز په ملحوظ د لاس پری کولو په ځای کومه ابتدائی سزا تطبيق او جاری شوی وی؟ - کوم ملحد په پخوانی زمانه کښی پر «حدالسرقه» داسی يوه شبهه کړی وه «کله چه شريعت د يوه لاس د بت پنځه سوه ديناره مقرر کړی دی، نو داسی يو قيمتدار لاس (چه په پری کولو ئی پنځه سوه ديناره واجبيږی) د پنځو يا لسو روپيو په غلا کولو به څرنګه امکان ولری چه پری کړی شی؟» يوه عالم د ده په ځواب کښی څنګه ښه ويلی دی «**انها لما کانت امينة - کانت ثمينة، فلما خانت، هانت** کله چه هغه لاس امين ؤ قيمت ئی درلود (لرلو)، کله چه ئی غلا وکړه او خائن شو - نو ذليل شو» ﴿وَاللّٰهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ او الله ډير قوی غالب دی ښه حکمت والا» لکه چه غالب دی نو ځکه حق لری هر هغه قانون چه اراده ئی وکړی، جاری ئی کړی - او هيڅوک د ده په مقابل کښی څه نشی ويلی. او څنګه چه ورسره حکمت والا هم دی نو ځکه د دی خبری هيڅ احتمال نشته چه تش د خپل کامله اختياره کار واخلی يا بی ځايه قانون نافذ کړی. او د خپلو ناتوانو بندګانو د مالونو د ساتنی له پاره څه انتظام ونه کړی - دا د ده له عزت او غلبی سره منافی دی - او د غلو او داړه مارانو هم داسی خوی او آزاد (او بی له نښی) پريښودل د ده له حکمت څخه مخالف کار دی.

---

فَمَنْ تَابَ مِنْ بَعْدِ ظُلْمِهِ وَأَصْلَحَ فَإِنَّ اللّٰهَ يَتُوبُ عَلَيْهِ إِنَّ اللّٰهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٩﴾

---

نو هر چا چه توبه وويسته (له بدو کارونو) وروسته له ظلم خپل او اصلاح (ښه ئی کړ عمل خپل) پس بيشکه الله رجوع کوی (په رحمت سره) په ده بيشکه الله ډير مغفرت والا دی (د خطياتو) ښه مهربان دی (په انعام د اجر او ثواب سره).

---

**تفسير:** يعنی توبه که رښتيا او د زړه وی چه د هغی له پاره دا هم ضروری ده چه د غلا مال دی د هغه مالک ته بيرته ورکړی. او که تری تلف شوی وی نو ضمان دی ورکړی او که ضمان هم نشی ورکولی نو ښښنه دی تری وغواړی، او پر خپل دغه فعل دی نادم او پښيمانه شی. او وروسته له هغه دی تری د ځان ژغورنی (بچ کولو) عزم وکړی. نو له داسی توبی ايستلو ځنی هيله (امکان) او اميد شته چه حق تعالیٰ له ده څخه أخروی عقوبت هم لری کړی چه د هغه په مقابل

کښې دنيوی سزا هيڅ اهميت نه لري.

اَلَمۡ تَعۡلَمۡ اَنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلۡكُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ يُعَذِّبُ مَنۡ يَّشَآءُ وَيَغۡفِرُ لِمَنۡ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ قَدِيۡرٌ ﴿۴۰﴾

آيا نه پوهيږې (ای محمده! يا ای سامعه) چه بيشکه الله (خاص) دی ده ته ملک (سلطنت) د آسمانونو او ځمکې په عذابوی (الله) هر هغه څوک چه اراده وفرمائی (د عذاب ئی) او مغفرت کوی هر هغه چاته چه اراده وفرمائی (د مغفرت ئی) او الله پر هر شی باندی (چه اراده ئی وفرمائی) ښه قادر دی (نو په تعذيب او مغفرت هم قادر دی)

**تفسير:** کله چه حقيقی سلطنت او حکومت د الله تعالیٰ دی ـ نو بلا شبهه دی اختيار لری، هر هغه څوک چه مناسب وګڼی ، معاف ئی کړی ـ او هر هغه چاته چه په خپل حکمت او عدل سره د سزا ورکولو اراده وکړی سزا ورکوی ـ او نه يوائې دا چه د ده په معافولو او سزا ورکولو کښې ده ته کلی اختيارات حاصل دی بلکه د دی اختياراتو له استعمالولو څخه ئی هيڅوک نشی منع کولی ـ ځکه چه دی پر هر شی باندی پوره قوت او قدرت لری.

يٰۤاَيُّهَا الرَّسُوۡلُ لَا يَحۡزُنۡكَ الَّذِيۡنَ يُسَارِعُوۡنَ فِى الۡكُفۡرِ مِنَ الَّذِيۡنَ قَالُوۡۤا
اٰمَنَّا بِاَفۡوَاهِهِمۡ وَلَمۡ تُؤۡمِنۡ قُلُوۡبُهُمۡ ۛۚ وَمِنَ الَّذِيۡنَ
هَادُوۡا ۛۚ سَمّٰعُوۡنَ لِلۡكَذِبِ سَمّٰعُوۡنَ لِقَوۡمٍ اٰخَرِيۡنَ ۙ لَمۡ
يَاۡتُوۡكَ ؕ يُحَرِّفُوۡنَ الۡكَلِمَ مِنۡۢ بَعۡدِ مَوَاضِعِهٖ ۚ

ای(زما) رسوله (محمده!) په غم کښې دی نه آچوی تا (فعل د) هغو کسانو چه جلتی کوی (او عناداً ځانونه غورځوی) په کفر کښې له هغو کسانو چه ويل دوی ايمان راوړی دی مونږ (تش) په خولو خپلو حال دا چه ايمان نه ؤ راوړی زړونو د دوی، او ځينی له هغو کسانو چه يهوديان دی (يعنی د بنی قريظی يهوديان او د مدينې منافقان) ډير اوريدونکی دی (د خبرو ستا يعنی

جاسوسي کوی) دپاره د دروغو ویلو ډیر اوریدونکی دی (د خبرو ستا یعنی دوی جاسوسان دی دپاره د رسولو) قوم بل ته چه نه دی راغلی تاته (یعنی د خیبر بنی نضیر) آړوی دوی کلمی(د تورات) وروسته له هغو ځایونو خپلو څخه (چه الله ایښی دی).

---

**تفسیر:** په پخوانیو آیاتونو کښی د داړی، غلا او د نورو د حدودو بیان وکړ شو، اوس د ځینو هغو نورو اقوامو احوال اورول کیږی چه دوی په حدودالله کښی تحریفات وکړل او خپل ځانونه ئی د لوی عذاب مستحق وګرځول «بغوی» د دی واقعی تفصیل داسی لیکلی دی «د خیبر یو محصن نارینه یهودی له یوی یهودی ښځی سره چه محصنه وه ـ زنا وکړه سره له دی چه په «تورات» کښی د دی جرم سزا رجم (په ګټو سره ویشتل) ؤ مګر د دی دواړو اعتبار او لویی د هغه «رجم» د اجرا کیدلو مانع وګرځیدل نو په خپلو منځونو کښی ئی سره مشوره وکړه، او وی ویل «دا سړی چه په یثرب کښی دی محمد صلی الله علیه وسلم د ده په کتاب کښی د زانی له پاره د «رجم» حکم نشته، بلکه د دری وهلو حکم شته. نو «د بنی قریظی» له یهودانو ځنی څو سړی ورولیږئ! ځکه چه «بنی قریظه» د محمد همسایګان او له محمد سره د روغی معاهده هم لری چه دوی د هغه خیال رامعلوم کړی» هماغه ؤ چه یو څو تنه د دی خبری له پاره ولیږل شول چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نظریه معلومه ـ او دا پوښتنه تری وکړی چه د «محصن زانی» له پاره څه سزا تجویزوی ـ «که دی د دری وهلو د سزا حکم وکړی نو تری اقرار واخلئ او ومنئ او که د «رجم» حکم واورئ! نو مه ئی منئ!» د دوی د دی پوښتنی په نسبت رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه «آیا تاسی زما پر فیصله قانع او راضی یئ ؟» دوی اقرار وکړ چه «هو!» دلته د پاک الله له لوری جبرئیل علیه السلام د «رجم» حکم راوړ مګر هغوی له خپل اقراره بیرته وګرځیدل. بالاخر رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل ستاسی لوی عالم د (فدک) وسیدونکی (ابن صوریا) څنګه سړی دی؟ ګردو (تولو) وویل چه «نن په ګرد (تول) جهان کښی د ده په شان په «موسوی شرائعو ډیر پوه او ښه عالم بل څوک نشته» رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه راغوښت ـ او په ډیر سخت حلف سره ئی تری پوښتنه وکړه چه په «تورات» کښی پر دغی ګناه څه سزا مقرره ده؟ سره له دی چه نورو یهودانو د دغه حکم په پټولو کښی له هر ممکن کوښښ څخه کار اخیست ـ ولی د دوی دغه پرده د عبدالله بن سلام په وسیله له منځه تللی وه او حقیقت ښکاره شوی ؤ، خو سره له هغه «ابن صوریا» چه د دوی یو مسلم او معتمد عالم ؤ، په هر ډول (طریقه) سره چه ؤ په دغی خبری ئی اقرار وکړ چه د دی جرم سزا په «تورات» کښی هم دا «رجم» دی. وروسته له هغه (ابن صوریا) هغه ګرد (تول) حقائق هم څرګند کړل چه یهودانو په څه ډول (طریقه) سره د «رجم» حکم لیری او د هغه په ځای ئی دا حکم لیکلی دی چه زانی دی په دری سره وهلی شی. او مخ ئی تور او پر خره باندی دی چپه سپوره ګرځاوه شی الحاصل رسول اکرم صلی الله علیه وسلم پر هغو دواړو (نارینه او ښځی) باندی د «رجم» امر

جاري کړ. او وئې فرمايل «اى الله! زه نن هغه ړومبنى سړى يم چه ستا دا حکم مى په داسى حال کښې په دنيا کښې جاري کړ. چه هغه مړ شوى ؤ». د «سماعون» معنى ډير اوريدونکى. او غوږ جارايستونکى ده نو بيا ده ډيرو اوريدلو» اطلاق کله کله پر جاسوسى هم کيږى او کله ئې معنى په «زيات قبول کوونکو» هم کيږى لکه «سمع الله لمن حمده» يعنى د اوريدلو معنى قبول کول دى. شيخ الهند رحمة الله عليه دلته اوله معنى مراد کړى ده ليکن ابن جرير رحمة الله عليه او نورو محققينو پر دوهمى معنى حمل کړى ده. «سماعون للکذب» يعنى د دروغو او باطلو ډير منونکى او قبول کوونکى. «سماعون لقوم آخرين» يعنى بل جماعت (چه د خيبر يهودان دى) چه د (بنى قريظه) سړى ئې ليږلى ؤ- او هغوى په خپله تاسى ته درنه غلل د دوى د خبرو زيات منونکى (او دغه يهوديان داسى کسان دى چه) د الله تعالىٰ په احکامو کښې تحريف کوى، يا د يو ځاى خبرى په بل ځاى پورى لګوى. (لکه د «رجم» آيت پټوى، او د هغه په ځاى درى او مخ تورول ښيى)

---

## يَقُولُونَ إِنْ أُوتِيتُمْ هَٰذَا فَخُذُوهُ وَإِن لَّمْ تُؤْتَوْهُ فَاحْذَرُوا ۚ

---

وائى دغه (د خيبر يهوديان خپلو ليږليو شويو ته) که درکړى شى تاسى ته دا (محرف حکم) نو وايې خلئ ! (او وئې منئ) او که نه شو درکړى تاسى ته دا(حکم) نو ويريږئ تاسى (له قبوله د هغه)

---

**تفسير:** يعنى که د درى وهلو حکم وموميء، هغه ومنئ! که نه نه! ګواکى دوى غواړى چه د الله تعالىٰ شريعت د خپل هوا او هوس تابع کړى.

---

## وَمَن يُرِدِ اللَّهُ فِتْنَتَهُ فَلَن تَمْلِكَ لَهُ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا ۚ

---

او هر هغه څوک چه اراده وکړى الله د فتنى (د ګمراه کولو) ئې نو له سره به مالک نشى ته (اى محمده!) د ده له پاره له الله نه د هيڅ شى. (چه فتنه او هلاک ترى دفعه کړى)

---

**تفسير:** هدايت او ضلالت ، خير او شر ، هر شى بى د الله تعالىٰ له ارادى څخه نشى موجوديدى دا داسى يو اصل دى چه انکار ئې له تسليم څخه ډير مشکل دى فرض ئې کړئ ! يو سړى د غلا کولو اراده کوى، ليکن د الله تعالىٰ اراده دا وى چه هغه غلا ونه کړى نو که دا سړى په خپله اراده کښې برى مومى نو لازميږى چه (معاذالله) الله تعالىٰ د ده په مقابل کښې عاجز شو او که د الله تعالىٰ اراده د بنده پر ارادى غالبه شى، نو لازميږى چه په دنيا کښې دى هيڅرى د

غلا او د نورو بدو کارونو هیڅ نوم او اثر پاتې نشي ـ او که الله تعالیٰ د خیر او د شر د هیڅ یوه اراده نه کوی، نو له هغه څخه (معاذالله) د ده تعطل یا غفلت او سفاهت لازمیږی «**تعالیٰ الله عن کل الشرور و تقدس**» پر دغو ګردو (ټولو) شقوقو باندی له غور کولو څخه وروسته بیا ناچاره د همغی خبری منل لازمیږی چه هیڅ یو شی بې د ده د تخلیق د ارادی څخه موجود کیدی نشي. دغه مسئله ډیره مهمه او اوږده ده، زمونږ قصد دا دی چه په دی راز (قسم) مسائلو باندی یو مستقل مضمون ولیکو، والله الموفق.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَمْ يُرِدِ اللَّهُ أَن يُطَهِّرَ قُلُوبَهُمْ ۚ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ ۖ وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٤١﴾

دغه (یهودان او منافقان) همغه کسان دی چه اراده نه ده فرمایلی الله (د دی) چه پاک کړی زړونه د دوی (له کفر نه)، (شته) دوی ته په دنیا کښې ذلت (شرمنده ګی) او شته دوی ته په آخرت کښې عذاب ډیر لوی.

**تفسیر:** اول ئې د منافقانو او د یهودانو د عمل طرز، بیان کړ چه هغو کښې د څو عملونو بالخصوص ذکر شوی دی، تل دروغ ویل او د باطلو په لوری کړیدل، د اهل حق په خلاف جاسوسی کول، له بد باطنو او شریرو جماعتونو سره مدد کول د هدایت په خبرو کښې تحریف او تبدیل کول، د خپلی غوښتنی او خوښی له امله (وجی) د کومی حقی خبری نه منل، دا ګرد (ټول) داسی خصلتونه او خویونه دی چه که په قوم کښې وموندل شی، نو د هغه مثال د هغه رنځور په شان دی چه نه د دوا په استعمالولو پسی ګرځی او نه له مهلکو او مضرو شیانو څخه پرهیز کوی د طبیبانو او ډاکترانو په هدایت او ویناګانو پوری خاندی او ملندی پری وهی پوهانو ته کنځلی کوی، د دوا نسخی شیروی او په خپله دواء هیسته غورځوی یا په خپل سر د هغه اجزاء بدلوی. او له خپل ځان سره داسی عهد هم کوی هر هغه دوا چه زما له غوښتنی او خوښی او مذاقه ځنی مخالفه وی هغه به زه له سره نه استعمالوم نو آیا که په داسی حالاتو کښې کوم ډاکتر او طبیب اګر که د ده پلار هم وی، د ده له معالجی څخه لاس واخلی، او داسی اراده وکړی چه اوس ښایی دا مریض د خپلو بې‌اعتدالیو او غلطو کارونو او د ضد او سرزوری نتیجه او ثمره وګوری نو آیا دا به د طبیب د بیرحمی یا بې‌اعتنائی دلیل او ثبوت وی؟ یا به په خپله د مریض ځان وژل ګانه شی؟ اوس که هغه مریض له هغی رنځوری څخه مړ شی، نو طبیب پری نه ملزم کیږی چه د ده علاج ئې نه دی کړی ـ او روغتیا پسی ئې نه دی ګرځیدلی بلکه په خپله همغه رنځور ګرم او ملزم دی چه په خپل لاس ئې خپل ځان وژلی دی، او طبیب ته ئې موقع نه ده ورکړی چه د ده د صحت په اعاده ئې کوښښ وکړی. بیخی د هم دی په شان دلته د یهودانو

شرارت هوا پرستی، ضد، سرزوری عناد رخه (کینه) او حسد ئی په دی الفاظو سره بیان فرمایلی دی ﴿ وَمَنْ يُرِدِ اللهُ فِتْنَتَهُ ﴾ الآية - د هر چا د گمراه کولو اراده چه الله تعالیٰ وفرمائی او ﴿ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَمْ يُرِدِ اللهُ أَنْ يُطَهِّرَ قُلُوبَهُمْ ﴾ دا هغه کسان دی چه الله تعالیٰ د دی اراده نه ده فرمائلی چه د دوی زړونه پاک کړی.» د دی مطلب دا دی چه الله جل جلاله د دوی د بد استعدادونو او بدکاریو له سببه د خپل لطف او عنایت نظر له دوی څخنی اړولی دی چه وروسته له دی سمی لاری ته د دوی راتګ او د پاکی قبلولو توقع له دوی څخه نشی کیدی تاسی د دوی غم مه خورئ! او خپل ځان مه پسی ځوروئ! لقوله تعالیٰ ﴿ لَا يَحْزُنْكَ الَّذِينَ ﴾ الآية - باقی دا شبهه چه الله جل جلاله پر دی باندی قادر دی چه د دوی هغه ګرد (تول) شرارتونه او غلطی چاری جبراً منع کړی او دوی مجبور وګرځوی چه هیڅ ضد او سرزوری ونشی کړی. نو بیشکه زه دا منم چه د الله تعالیٰ د قدرت په مقابل کښی دا کوم مشکل کار نه دی لکه چه په (١١) جزء د یونس د سورت په (٩٩) آیت ١٠ رکوع کښی داسی یو آیت لولو ﴿ وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ لَآمَنَ مَنْ فِي الْأَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيعًا ﴾ لیکن د دی دنیا ګرد (تول) نظام داسی کښیښود شوی دی چه بندګان د خیر او شر په اکتساب کښی مجبور نه دی او که تول یوازی د خیر په کولو سره مجبور شوی وی. نو د عالم د تخلیق حکمتونه او مصالح به نه پوره کیدل او د حق تعالیٰ ډیر صفات به نه راڅرګندیدل ـ او د هغو د ظهور موقع به نه موندله کیده مثلاً د عفو، غفور، حلیم، منتقم، ذوالبطش، الشدید، قائم بالقسط، مالک یوم الدین، او د نورو په مناظرو به نه پوهیدو ـ حال دا چه د دی عالم د پیدا کیدلو اصلی غرض او غایه دا ده چه د الله تعالیٰ د ګردو (تولو) کمالیه ؤ صفاتو مظاهره وشی، هر هغه مذهب یا انسان چه الله تعالیٰ فاعل مختار ګنی، د خپلی دی دعوی په پای (اخر) کښی پرته (علاوه) له دی غرض څخه بل شی نشی ښوولی. ﴿ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ﴾ (٢٩ جزء د الملک (٢) آیت (١) رکوع) له دی نه د زیات تفصیل ځای دلته نشته بلکه دومره لیکل هم زمونږ له موضوع څخنی زیات دی.

---

سَمّٰعُونَ لِلْكَذِبِ أَكّٰلُونَ لِلسُّحْتِ فَإِنْ جَآءُوكَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ أَوْ أَعْرِضْ عَنْهُمْ

---

(دوی) ډیر اوریدونکی (جاسوسی کوونکی دی) له پاره د دروغ ویلو ډیر خوړونکی دی د حرامو نو که راغلل دوی تاته نو حکم (پریکړه) وکړه په منځ د دوی کښی یا مخ وګرځوه له دوی نه

---

**تفسیر:** له ابن عباس، مجاهد، عکرمه او نورو اکابرو سلفو رضی الله عنهم څخه منقول دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دا اختیار په ابتداء کښی ؤ، په آخر کښی کله چه د اسلام

تسلط او نفوذ کامل شو نو داسی ارشاد وشو. ﴿وَأَنِ احْكُم بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ﴾ یعنی د دوی د منازعو فیصلی د شریعت له قانون سره سمی وکړه!» مطلب دا چه د اعراض او د ځان په څنګ کولو څه ضرورت نه دی پاتی.

وَإِن تُعْرِضْ عَنْهُمْ فَلَن يَضُرُّوكَ شَيْئًا ۖ وَإِنْ حَكَمْتَ فَاحْكُم بَيْنَهُم بِالْقِسْطِ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ ﴿٤٢﴾

او که مخ وګرځوی له دوی نه (او حکم ونه کړی) نو له سره به ضرر ونه رسوی دوی تاته د هیڅ شی او که حکم (پریکړه) دی کوله نو حکم (پریکړه) وکړه په منځ د دوی کښی په عدل (انصاف) سره بیشکه الله دوست ګڼی عدل کوونکی (په حکم کښی چه ثواب ورکوی دوی ته).

**تفسیر:** قرآن کریم څو څو ځلی د دی خبری تاکید فرمایلی دی چه نه ښائی ستاسی د عدل او انصاف لمن د هیچا په جبر، ظلم ، تجاوز او بی‌انصافی ککړه شی اګر که هغه سری ډیر شریر ظالم او خراب هم وی، ځکه چه عدل، انصاف او حق په حقدار رسول بی له زیادت او تقلیل داسی یو صفت دی چه د ځمکی او آسمان او د ګرد (تول) جهان نظام پری قائم دی.

وَكَيْفَ يُحَكِّمُونَكَ وَعِندَهُمُ التَّوْرَاةُ فِيهَا حُكْمُ اللَّهِ ثُمَّ يَتَوَلَّوْنَ مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ ۚ وَمَا أُولَٰئِكَ بِالْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٣﴾

او څرنګه به حکم (منصف) وګرځوی دوی تا (ای محمده) حال دا چه په نزد د دوی تورات دی چه (شته) په هغه کښی حکم د الله بیا ګرځی دوی (له هغه حکم ستا څخه) پس له هغه، (چه دوی ته حکم وګرځولی) او نه دی دغه کسان له سره باور کوونکی(نه په تا او نه په کتاب خپل).

**تفسیر:** یعنی د تعجب خبره دا ده چه یهودان تاسی منصف او حکم دروی او د هغه «تورات» په فیصله چه آسمانی کتاب ئی منی نه راضی کیږی نو په حقیقت کښی دوی پر هیڅ یو کتاب باندی ایمان نه لری نه پر قرآن کریم نه پر «تورات» باندی پخوانی رکوع کښی ئی د «تورات» او د «انجیل» مدح وفرمایله، او تنبیه ئی راکړه چه دغو نالائقانو د داسی عمده کتاب (چه

پکښې ډير علوم او هدايات ؤ) قدر ونه کړ، او داسې ئې ضائع کړ چه نن د اصلي شي پته لګول هم پکښې مشکل شوی دی بالاخره الله تعالیٰ په خپل بالغه حکمت او کامله رحمت سره بيخي په آخره زمانه کښې داسې يو کتاب را نازل کړ چه د هغو ګردو (تولو) پخوانيو کتابونو د اصلي مطالبو محافظ او مصدق دی، او د ده د ابدي حفاظت انتظام الله تعالیٰ په خپله ذمه اخيستی دی. فلله الحمد والمنة!

إِنَّآ أَنزَلْنَا ٱلتَّوْرَىٰةَ فِيهَا هُدًى وَنُورٌ ۚ

بيشکه مونږ نازل کړی (ليږلی) مو دی تورات (چه شته) په هغه کښې هدايت (لار ښوونه حق ته) او رڼا (رڼرا) (چه شرعي احکام پرې منکشف کيږی)

**تفسير:** يعني د وصول الی الله طالبانو ته هدايت ـ او د هغو کسانو له پاره چه د شبهاتو او مشکلاتو په تيارو کښې بند پاتې دی د رڼا (رڼرا) کار ورکوی

يَحْكُمُ بِهَا ٱلنَّبِيُّونَ ٱلَّذِينَ أَسْلَمُوا۟ لِلَّذِينَ هَادُوا۟ وَٱلرَّبَّـٰنِيُّونَ وَٱلْأَحْبَارُ

حکم به کاوه په هغه سره انبياؤ (د بنی‌اسرآئيلو) هغو چه حکم منونکی وو دوی (د الله) هغو کسانو ته چه يهوديان وو او (حکم به کاوه پرې) رباني عارفانو او عالمانو (د دوی)

**تفسير:** يعني په «تورات» کښې داسې عظيم الشان دستورالعمل او د هدايت آئين ؤ چه ډيرو انبياؤ ، اهل الله ؤ او علماؤ به د هغه له هدايتونو سره سم حکمونه صادرول او د منازعو او جګړو پريکړی به ئې په هغو سره کولې.

بِمَا ٱسْتُحْفِظُوا۟ مِن كِتَـٰبِ ٱللَّهِ وَكَانُوا۟ عَلَيْهِ شُهَدَآءَ ۚ

په سبب د هغه شي چه طلب د حفاظت ئې شوی ؤ له دوی څخه چه کتاب د الله دی (يا) د دوی دپاره چه دوی ساتونکی درولی شوی وو پر کتاب د الله باندی او وو دوی په هغه باندی شاهدان (په حقانيت ئې يا ساتونکی له تبديله)

**تفسير:** يعني دوی د «تورات» د ساتنې ذمه واران ګرځولی شوی وو۔ او زمونږ د قرآن کريم په شان د ﴿ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَـٰفِظُونَ ﴾ وعده له هغه سره نه وه شوی ـ نو تر هغې پوری چه علماؤ ، احبارو

او نورو د خپلو ذمه واریو احساس کاوه «تورات» محفوظ او معمول ؤ ـ آخر د دنیا خوښوونکو بدو علماؤ په لاسونو تحریف او ضایع شو.

فَلَا تَخۡشَوُا النَّاسَ وَاخۡشَوۡنِ وَلَا تَشۡتَرُوۡا بِاٰيٰتِىۡ ثَمَنًا قَلِيۡلًا ؕ

نو مه ویریږئ تاسی له خلقو نه (په اظهار او اجراء د حق کښی) او وویریږئ له ما (په پتولو د حق کښی) او مه پیریږئ (مه اخلئ) تاسی په آیتونو زما قیمت لږ (چه هغه رشوت او جاه دی)

**تفسیر:** یعنی د خلقو له خوفه یا د دنیوی طمعی له امله (وجی) په آسمانی کتاب کښی تبدیل او تحریف مه کوئ ! او د هغه احکام او اخبار مه پټوئ! او د الله تعالیٰ له تعذیبه او انتقامه وریریږئ! د «تورات» د عظمت شان او مقبولیت له څرګندولو څخه وروسته دا خطاب یا خو د یهودانو هغو رئیسانو او عالمانو ته کړی شوی دی چه د قرآن کریم د نزول په وخت کښی وو څکه چه هم دوی د«رجم» له آیت څخه انکار کړی ؤ، او د نبی کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم په نسبت پخوا ویل ئی پټ کړی وو او د هغه په معناګانو کښی ئی عجیب قسم تحریف او تبدیل او وړاندی او وروسته والی کړی ؤ. یا په دی منځ کښی امت مسلمه ته نصیحت دی چه تاسی د نورو اقوامو په شان په هیڅ وجه له هیچا څخه مه ویریږئ! یا د مال او جاه په محبت کښی په دغه اندازه مه اخته کیږئ! چه آسمانی کتاب ضایع کړئ! لکه چه لله الحمد دغه محمدی امت د خپل لوی قرآن یو توری هم نه دی لږ کړی او نه ئی ورک کړی او تر نن پوری د پاک قرآن مطالب له هر راز تغییر او تحریف څخه محفوظ او مصون دی او تل به په دی مقصد لکه نن او پرون بریالی او کامیاب وی. او د مبطلینو او محرفینو هر راز (قسم) زیار (محنت) او کوښښ به په دغه مورد کښی بی اثره او ناکامه ثابتیږی.

وَمَنۡ لَّمۡ يَحۡكُمۡ بِمَاۤ اَنۡزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الۡكٰفِرُوۡنَ ۝٤٤

او هر چا چه ونه کړ حکم په هغه شی چه نازل کړی (لیږلی) دی الله نو دغه کسان هم دوی دی کافران

**تفسیر:** د ﴿ مَآ اَنۡزَلَ اللّٰهُ ﴾ سره سم له حکم نه کولو څخنی غالباً دا مراد دی چه د منصوصو حکمونو له وجوده انکار وکړی او د هغه په ځای نور احکام په خپله رایه او غوښتنه سره منځ ته راوړی لکه چه یهودانو د «رجم» د حکم په نسبت هم داسی کړی وو نو د داسی خلقو په کفر کښی هیڅ شبهه نشته او که داسی مراد وی چه﴿ مَآ اَنۡزَلَ اللّٰهُ ﴾ عقیدتاً منی، او پر خلاف د

هغه عملاً فیصله کوی، نو له کافر ځنی به عملی کافر مراد وی. یعنی د هغه عملی حالت د کافرانو په شان دی.

وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَا أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ وَالْأَنْفَ بِالْأَنْفِ وَالْأُذُنَ بِالْأُذُنِ وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ وَالْجُرُوحَ قِصَاصٌ

او لیکلی (فرض کړی) وو مونږ پر دغو (یهودانو) په دی «تورات» کښې چه بیشکه نفس دی ووژلی شي په(بدل د بل) نفس کښې او سترګه دی (ړنده شی) په (بدل د بلی) سترګی او پوزه دی (پریکړه شی) په (بدل د بلی) پوزی او غوږ دی (پریکړی شی) په «بدل د بل» غوږ او غاښ دی (وویستلی شی) په (بدل د بل) غاښ کښې او پرهارونه قصاص (بدل) دی برابر،

**تفسیر:** د قصاص دا حکم په موسوی شریعت کښې ؤ او د اصولو ډیرو علماؤ تصریح کړی ده. چه هغه پخوانی شرائع چه زمونږ قرآن کریم یا زمونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه نقل کړی دی، په دی شرط چه د هغو په نسبت رسول الله مبارک کوم انکار یا ترمیم نه وی فرمائلی د دی امت په حق کښې هم تسلیم دی. ګواکی بی له رده او له انکار د هغه اورول د تلقی بالقبول دلیل دی.

فَمَنْ تَصَدَّقَ بِهِ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَهُ

نو هر چا چه عفوه وکړه د دی قصاص نو دغه عفوه کفاره ده ده ته (یعنی دی په دغی عفوی سره له ګناه پاکیږی

**تفسیر:** یعنی د جروحو او زخمونو د قصاص معافول د مجروح د ګناهونو کفاره ګرځی ـ لکه چه په ځینو احادیثو کښې د دی خبری تصریح شوی ده. او ځینو مفسرینو دا آیت د جارح په حق کښې ګڼلی دی ـ یعنی که مجروح جارح ته معافی وکړی ، نو د جارح ګناه معافیږی والراجح هو الاول.

وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٤٥﴾

او هر چا چه ونه کړ حکم په هغه شي چه نازل کړی (لیږلی دی) الله نو دغه کسان هم دوی دی ظالمان

**تفسیر:** یهودانو د قصاص له حکم څخه هم مخالفت وکړ په دوی کښی «بنی نضیر» چه ډیر معزز او قوی ګڼانه کیده له «بنی قریظه» څخه ئی پوره دیت حصولاوه او کله چه د دوی د تادیی نوبت راته نو نیمایی دیت به ئی ادا کاوه ځکه چه «بنی قریظه» د کمزوری له امله (وجی) له دوی سره هم داسی معاهده ترلی وه. اتفاقاً د «بنی قریظه» له خوا د«بنی نضیر» سړی ووژه شو دوی د خپل پخوانی دستور سره سم خپل پوره دیت وغوښت. «بنی قریظه» د دوی په ځواب کښی وویل «ځئ! هغه زمانه تیره شوه چه مونږ ستاسی د زور او قوت په سبب مجبور شوی وو او دغه ظلم مو په غاړه اخیستی وو اوس محمد صلی الله علیه وآله وصحبه وسلم مدینی منوری ته تشریف راوړی دی او د ده مبارکه دوره ده او دا امکان نه لری چه مونږ د هغه دیت په مقابل کښی چه له تاسی څخنی ئی آخلو دوه چنده ئی تاسی ته درکړو» د دی وینا غرض او غایه دا وه چه اوس د حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وآله وصحبه وسلم په موجودیت کښی محال دی چه کوم قوی یو ضعیف لتاړ (چیت) او تر پښو لاندی کړی یا ئی وځبیښی ځکه چه په دی خبره باندی د ګردو (تولو) باور ؤ چه محمد علیه السلام د هر ضعیف او قوی سره یو شان عدل او انصاف فرمایی او د اقویاؤ د ظلم او تیری په مقابل کښی د ضعفاؤ مرستی (مدد) او لاس نیوی کوی د دی معاملی پای او انجام داسی شو چه دوی ګرد (تول) سره محمدی دربار او عدلیی ته ورواندی شول او د «بنی قریظه» هغه خیال چه د هغه عدل او انصاف د مظهر په نسبت ئی کړی ؤ کټمټ (هوبهو) درست او صحیح ووت. د قصاص له حکم څخه وروسته ﴿وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ﴾ الآیة ـ له فرمائلو څخه د دی واقعی په لوری اشاره ده. او څرنګه چه ئی د «رجم» په شان د «قصاص» د حکم له مشروعیت څخه صریحاً انکار نه ؤ کړی بلکه وروسته له مفاهمی او مشاوری به ئی د شرعی حکم په خلاف یو حکم قائموه نو دا د عدل له قانون څخه اعتقادی مخالفت نه بلکی عملی مخالفت ؤ نو ځکه ئی د «کافرون» په ځای «ظالمون» وفرمایل یعنی دا صریح ظلم دی چه له قوی څخه کم او له ضعیف څخه زیات دیت واخیست شی.

وَقَفَّيْنَا عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ بِعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرٰىةِ ۖ وَاٰتَيْنٰهُ الْاِنْجِيْلَ فِيْهِ هُدًى وَّنُوْرٌ ۙ وَّمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرٰىةِ وَهُدًى وَّمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٦﴾ ط

او ولیږه مونږ وروسته له دغو انبیاؤ (یا پر پلو د دوی) عیسیٰ زوی د مریمی (یعنی چه د هغوی د پښو پر مندو، دی هم رهی (روان) ؤ) حال دا چه مصدق (رښتیا کوونکی) ؤ د هغه کتاب چه پخوا له ده ؤ له تورات (چه هغه هم حق سماوی کتاب دی) او ورکړی ؤ مونږ ده (عیسیٰ) ته انجیل (حال دا) چه په هغه کښی هدایت ؤ (حق ته) او نور (رڼا (رڼړا) وه (بیان ؤ د شرعی احکام) او حال دا چه مصدق (موافق) ؤ د هغه کتاب چه پخوا ؤ د ده له تورات او هدایت (لارښوونکی) ؤ او موعظه (پند) ؤ دپاره د پرهیزگارانو.

**تفسیر:** یعنی حضرت عیسیٰ علیه السلام په خپله ژبه د «تورات» تصدیق وفرمایه او هغه کتاب «انجیل» چه هغوی ته ورکړی شوی ؤ هغه هم د «تورات» مصدق دی او د «انجیل» نوعیت هم په رڼا (رڼړا) او هدایت او لارښوونه کښی د «تورات» په شان ؤ د احکامو او شرایعو په اعتبار هم د دی دواړو په منځ کښی لږ څه فرق ؤ لکه چه په ﴿ وَلِأُحِلَّ لَكُم بَعْضَ الَّذِي حُرِّمَ عَلَيْكُمْ ﴾ کښی اشاره ده. او دا فرق د «تورات» له تصدیق سره څه منافات نه لری لکه چه نن مونږ عظیم الشان قرآن منو او یواځی د هغه د احکامو په تسلیمولو سره لله الحمد د گردو (تولو) سماوی کتابونو د منعندالله توب تصدیق هم کوو.

وَلْيَحْكُمْ أَهْلُ الْإِنجِيلِ بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فِيهِ ۚ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ﴿٤٧﴾

او (فرمایلی ؤ الله) حکم دی وکړی اهل (عالمان) د انجیل په هغه شي چه نازل کړی (لیږلی) دی الله په هغه (انجیل) کښی او هر چا چه و نه کړ حکم په هغه شي چه نازل کړی دی الله نو دغه کسان هم دوی دی فاسقان.

**تفسیر:** یا خو دا حکم هغو عیسائیانو ته چه د انجیل د نزول په وخت کښی موجود ؤ ورکړی شوی ؤ چه د هغه نقل دلته فرمایی او کیږی چه هغو عیسایانو ته به چه د قرآن عظیم د نزول په وخت کښی مخاطب وو ویلی شوی وی هر هغه څه چه الله تعالیٰ په «انجیل» کښی نازل کړی دی سم له هغه سره دی عادلانه حکم وکړی! یعنی د هغو پخوا ویلو په پټولو یا په لغوو او مهملو تاویلاتو او بدلولو سره دی کوښښ نه کوی! چه په «انجیل» کښی د آخرالزمان او مقدس رسول صلی الله علیه وسلم «فارقلیط» په نسبت د حضرت مسیح علیه السلام له ژبی ویلی شوی دی. دا به د الله تعالیٰ سخته نافرمانی وی چه د هغه جلیل هادی او لوی مصلح په نسبت چه حضرت

مسیح علیه السلام داسی فرمایلی دی «کله چه هغه حق روح راشی نو تاسی ته به د رښتینی گردی (تولی) لاری دروښیی» نو تاسی د هغه تکذیب ته ملاوی مه ترئ! او ابدی خسران مه قبلوئ آیا د مقدس مسیح علیه السلام او د هغه د الله جل جلاله د حکم منلو معنی هم دا ده؟ (له سره نه دی! او ځینی مفسرین وایی چه دغه امر د «انجیل» له نسخی څخه پخوا ؤ)

---

وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ

---

او نازل کړی (لیږلی) دی مونږ تاته (ای محمده!) کتاب (قرآن) په حقه سره چه مصدق (حق گڼونکی) دی د هغه چه (نازل شوی دی) په مخ د ده کښی له کتابونو څخه او ساتونکی دی پر (مضامینو د) هغه (یعنی شاهد دی په حقانیت د جنس د هغه کتاب)

---

**تفسیر:** د «مهیمن» معنی داسی بیان کړی شوی ده امین، غالب، حاکم، محافظ او ساتونکی او د هری معنی په اعتبار چه وی د قرآن کریم «مهیمن» توب د سابقو کتابونو له پاره صحیح دی د الله تعالیٰ هغه امانت چه په تورات، انجیل او نورو آسمانی کتابونو کښی په ودیعت ایښی شوی ؤ هغه له زوائدو سره په قرآن کښی محفوظ دی چه په هغه کښی هیڅ خیانت نه دی شوی او هغه ځنی فرعی شیان چه په هغو کتابونو کښی په هغی زمانی یا د هغو مخصوصو مخاطبینو دپاره حسب الحال ؤ هغه د پاک قرآن له خوا منسوخ شو او د هغو د ناتمامو حقائقو تکمیل ئی وفرمایه او له هغی برخی څخه ئی چه د دی زمانی په اعتبار غیر مهم ؤ منصرف شو او سترگی ئی تری واړولی.

---

فَٱحْكُم بَيْنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ

---

نو حکم کوه (ای محمده!) په منځ د دغو (کتابیانو هم که تاته راغلل) په هغه شی چه لیږلی دی الله (تاته)

---

**تفسیر:** د یهودانو په منځ کښی څه جگړه سره پیښه شوی وه یوه ډله ئی (چه په هغی کښی لوی لوی مشهور علماء او مقتدایان شامل ؤ) د محمد صلی الله علیه وسلم په خدمت کښی حاضره شوه او د هغی جگړی فیصله ئی وغوښتله او دا ئی هم وویل چه تاسی ته ښکاره ده چه گرد (تول) یهودان زمونږ په واک او اختیار کښی دی. که تاسی خپله فیصله سم زمونږ له غوښتنی سره وکړه

نو مونږ ګرد (ټول) مسلمانيږو رسول اکرم صلی الله عليه وسلم دا رشوتی اسلام ونه مانه او د دوی له دغی غوښتنی څخه ئی صاف انکار وفرمایه نو په دی مناسبت (او د دی نظريی په تائيد) دا آيت نازل شو.(ابن کثير)

## وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ عَمَّا جَاءَكَ مِنَ الْحَقِّ

### او مه کوه متابعت د آرزوګانو د دوی (او مه اوړه) له هغه شی څخه چه راغلی دی تاته له حق څخه

**تفسير:** په تيره فائده کښی د دی آيتونو کوم شان نزول چه مونږ ليکلی دی له هغه څخه صاف ښکاريږی چه دا آيت له هغی غوښتنی څخه وروسته نازل شوی دی. چه محمد صلی الله عليه وسلم د هغوی په خوښی سره له کار کولو څخه انکار وفرمایه نو دا آيتونه د دوی د استقامت د تصويب او وروسته له دی نه هم د عصمت په هم دی شان باندی د ثابت او قائم پاتی کيدلو د تاکيد له پاره نازل شوی دی. نو هغه کسان چه دا راز (قسم) آيتونه زمونږ د نبی عليه الصلوة والسلام د عصمت له شان څخه مخالف تصور کوی ډير ناپوه او قاصر الفهم دی.

۱. له يوه شی څخه د چا منع کول د دی خبری دليل نشی کيدی چه د هغه شی مرتکب کيدل غواړی چه ورڅخه منع شوی وی.

۲. د انبياء عليهم الصلوة والسلام له معصوميت څخه مطلب دا دی چه له دوی څخه د الله تعالیٰ معصيت نشی صادريدلی يعنی په هر کار باندی چه وپوهيږی هغه د خدای جل جلاله خوښ نه دی هغه نشی کولی. او که اتفاقاً کوم وخت په هيره او خطا يا د رای او اجتهاد په غلطی سره د راجح او افضل په ځای مرجوح او مفضول اختيار کړی يا غير مرضی، مرضی وګڼی او پری عمل وکړی چه هغه ته اصطلاحاً «ذلت» وايی نو داسی واقعات د عصمت له مسئلی سره منافی نه دی. لکه چه د حضرت آدم عليه السلام او د ځينو نورو انبياؤ عليهم الصلوة والسلام واقعات د دی قضيی شاهد دی. د دی حقيقت له پوهيدلو څخه وروسته د ﴿ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ عَمَّا جَاءَكَ مِنَ الْحَقِّ ﴾ او ﴿ وَاحْذَرْهُمْ أَن يَفْتِنُوكَ عَن بَعْضِ مَا أَنزَلَ اللَّهُ إِلَيْكَ ﴾ او د دی په شان د نورو آيتونو د مطلب په پوهيدلو کښی هيڅ قسم تردد او انديښنه نه پاتی کيږی ځکه چه په دغو آيتونو کښی يواځی د دی خبری تنبيه ورکړی شوی ده چه تاسی د دی ملعونانو د تلميع او له خبرو جوړولو څخه بيخی مه متأثر کيږئ او داسی کومه رايه مه قائموئ چه د هغی په سبب بلا قصد د دوی د غوښتنو د اتباع صورت پيدا شی مثلاً په هم دی قصه کښی چه د دی آيتونو شان نزول دی يهودانو په څه عياری او له فريبو ډکو صورتونو سره د رسول الله صلی الله عليه وسلم په حضور کښی يوه دعوی وړاندی کړی وه او دا ئی څرګنده کړه چه که حضرت پيغمبر صلی الله عليه وسلم د هغوی له رايو سره سمه فيصله وکړی نو ګرد (ټول) يهودان به مسلمانان شی دوی

پوهیدل چه له اسلام ځنې بل هیڅ یو شی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په نزد محبوب او عزیز نه دی په داسی موقع کښې ممکن ؤ چه خورا (ډیر) لوی او مستقیم انسان هم دا رایه قائمه کړی وی ځکه کله چه د دوی د داسی یوی وړوکی غوښتنی له منلو څخه د داسی یو عظیم الشان دینی منفعت توقع کیدله، نو څه مضائقه ده په داسی خطرناک او مزلة الاقدام (ښوئدلو) موقع کښې قرآن کریم محمد صلی الله علیه وسلم ته تنبیه ورکوی چه وګوره! په هیر او نسیان سره هم داسی یوه رایه مه قائموه چه ستا د لوړ شان سره مناسبه نه وی. د رسول الله مبارک کامله تقویٰ او انتهائی فهم او تدبیر خو د دی آیت له نزوله پخوا د دی ملاعینو د مکر او فریب تردید کړی دی و لیکن فرض ئی کړئ که داسی نه کیدی نو بیا هم د آیت مضمون لکه چه مونږ پخوا تقریر وکړ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د عصمت له شانه سره اصلاً مخالف نه دی.

## لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا

هر چاته مقرر کړی مونږ له تاسی (ای امتونو!) یو شریعت (اصول) او لاره روښانه

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ د هر امت له پاره د دوی له احوالو او استعدادونو سره مناسب او جلا (جدا) دود (رواج) او دستور او د کار طریقه مقرره کړی ده او سره له دی ګرد (تول) انبیاء او ملل په هغو دینی آسمانی اصولو او کلی مقاصدو کښې چه پری د ابدی نجات مدار دی یو له بل سره متحد او یو د بل مصدق دی بیا هم د جزئیاتو او فروعو په لحاظ هر امت ته د هغه له احوالو او مخصوصو استعدادونو او وخت او زمان او مکان سره سم خاص خاص احکام او هدایات ورکړی شوی دی، په دی کښې د هم دی فرعی اختلافاتو په طرف اشاره ده د «صحیح بخاری» له یوه حدیث څخه چه فرمایی ګرد (تول) انبیاء یو بل سره علاتی ورونه دی چه د دوی پلرونه سره یو وی او میندی سره بیلی وی ـ د هغه مطلب هم داسی دی چه د هغوی ګرد (تول) اصول سره یو او په فروعو کښې سره اختلاف لری. او څرنګه چه د مولود په تولید کښې پلار فاعل او مفیض او مور قابله او د افاضی‌محل ګرځی نو په هغه سره د دی په لوری یوه لطیفه اشاره هم وشوه چه د آسمانی شرائعو اختلاف د مخاطبینو پر قابلیت او استعداد پوری مبنی دی، که نه په مبدءالفیاض کښې هیڅ اختلاف او تعدد نشته. د ګردو (تولو) آسمانی ادیانو او شرائعو منبع همغه یو ذات او د ده ازلی علم دی.

## وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَلَٰكِن لِّيَبْلُوَكُمْ فِي مَا آتَاكُم

او که اراده فرمایلی وی الله نو خامخا به ئی ګرځولی وئ تاسی امت یو

(متفق په يو دين) او مګر (يې بېل بېل کړئ) ځکه چه وازمويي تاسي په هغه کښې چه تاسي ته ئې درکړی دی (له مختلفو شرائعو چه مطيع او عاصي سره بېل کړی)

**تفسير:** يعنې چه کوم يو له تاسي څخه د الله تعالیٰ پر مطلق مالکيت، محيط علم او بالغه حکمت يقين کوي او هر يو نوی حکم ئې حق او صواب ګڼي او په رضاء او رغبت سره ئې قبلوی او د يوه وفادار بنده په شان د هر نوی حکم په مقابل کښې هم د اطاعت له پاره تيار ولاړ او غاړه ايښودونکې دی!

فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرٰتِ ؕ

پس وړاندې شئ تاسي يو تر بله نيکيو ته (او د فضائلو په اکتساب او له رذائلو څخه په اجتناب کښې تلوار کوئ!)

**تفسير:** يعنې د شرائعو د اختلاف له ليدلو څخه په قيل او قال، جنګ او جنجال او کړو بحثونو کښې مه لويږئ! او وخت مه ضايع کوئ! او د وصول الی الله د اراده کوونکو عملې ژوندون د تعقيب له پاره مندې ووهئ! او د هغه عقائدو او اعمالو د محاسنو او د ښېګنو (فائدو) په اخيستلو کښې چالاکي ښکاره کړئ! چه د آسماني شريعت له خوا تاسي ته دروړاندې کړی شوی دی.

اِلَى اللّٰهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ۙ﴿٤٨﴾

(خاص) طرف د الله ته بيرته ورتله دی ستاسي د ټولو نو خبر به کړي تاسي (په قيامت کښې) په هغه (امر د دين) چه وئ تاسي چه په هغه کښې به مو اختلاف کاوه

**تفسير:** يعنې د انجام خيال وکړئ! او د حسناتو او د خيراتو په تحصيل کښې خپل تياری ښکاره کړئ! د دغو اختلافاتو او جګړو ګرد (ټول) حقائق به د قيامت له ورتللو څخه وروسته درڅرګنديږي.

وَاَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ وَاحْذَرْهُمْ

أَنْ يَفْتِنُوكَ عَنْ بَعْضِ مَآ أَنْزَلَ اللهُ إِلَيْكَ

او (ته لیرلی ئی مونږ او دغه حکم مو فرمایلی دی تاته) چه حکم کوه! په منځ د دوی کښې په هغه شی چه نازل کړی (لیږلی) دی الله او مه کوه متابعت د آرزوګانو د دوی او ویره کوه! (ځان ساته) له دوی نه چه وا (نه) ړوی (ونه ګرځوی) تا له ځینې هغه شی څخه چه نازل کړی (لیږلی) دی الله تاته (ای محمده!)

**تفسیر:** یعنی یو تر بله په اختلافاتو کښې که څه هم توله دنیا سره لاس او ګریوان وی، خو تاسی ته هم دا حکم دی چه سم له ﴿ مَآ أَنْزَلَ اللهُ ﴾ سره حکم وکړئ! او د هیچا د ویلو او د اورولو هیڅ پروا مه کوئ.

فَإِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمْ أَنَّمَا يُرِيدُ اللهُ أَنْ يُصِيبَهُمْ بِبَعْضِ ذُنُوبِهِمْ

نو که وګرځیدل دوی (له نازل شوو حکمونو) پس پوه شه (ته ای محمده!) چه بیشکه هم دا خبره ده چه اراده لری الله چه ورسوی دوی ته (سزا په دنیا کښې) په سبب د ځینو ګناهونو د دوی

**تفسیر:** پوره سزا به په قیامت کښې مومی لیکن لږ څه سزا دلته په دنیا کښې هم مجرم ته ورکوله کیږی تر څو نورو لیدونکو ته هم له هغی ځنې یو قسم تنبیه ورحاصله شی.

وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ لَفَاسِقُونَ ﴿٤٩﴾

او بیشکه چه ډیر له خلقو څخه خامخا فاسقان دی (د الله د اطاعت څخه متمردین دی)

**تفسیر:** یعنی تاسی د خلقو د اعراض او انحراف ځنې ډیر مه خپه کیږئ په دنیا کښې تل فرمانبردار بندګان لږ وی.

﴿ وَمَآ أَكْثَرُ النَّاسِ وَلَوْ حَرَصْتَ بِمُؤْمِنِينَ ﴾ (۱۲ جزء د یوسف «۱۱» رکوع (۱۰۳) آیت.)

أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ ﴿٥٠﴾

آیا پس حکم د جاهلیت غواړی دوی؟ (او د الله له حکمونو ښنګ کوی) او ښوک ډیر ښه دی له الله ښخه له جهته د حکم هغه قوم ته چه یقین لری (په الله یعنی هیڅوک نه دی)

**تفسیر:** یعنی هغه کسان چه د الله تعالیٰ په مالکیت او شهنشاهی او کامل رحمت او محیط علم باندی کامل یقین لری. د دوی په نزد په دنیا کښی د هیڅا حکم د الله تعالیٰ د حکم په مقابل کښی د التفات وړ (لائق) نشی کیدی نو بیا ولی دا خلق د الله تعالیٰ د احکامو د رڼا (رنړا) له راتللو ښخه وروسته د ظنونو او اهواؤ او آراؤ او کفر او جاهلیت د تیارو په لوری تلل خوښوی؟

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الْیَهُوْدَ وَ النَّصٰرٰۤی اَوْلِیَآءَ ۘ

ای هغو کسانو چه ایمان ئې راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو) مه نیسئ تاسی یهودیان او نصرانیان دوستان! (چه له دوی سره موالات او مودت وکړئ!)

**تفسیر:** «اولیاء» د ولی جمع ده «ولی» دوست ته هم وایی د «قریب، ناصر، مددګار» په معنی هم راځی مقصد دا دی چه مسلمانان له یهودو او نصاریٰ ؤ بلکه له ګردو (تولو) کفارو سره (لکه چه په (٥) جزء د نساء د سورت په (٢١) رکوع (١٤٤) آیت کښی تصریح شوی وه چه مسلمانان دی له کفارو سره دوستانه تعلقات نه قائموی) په دغه موقع کښی دی دا ملحوظ وی چه موالات، مروت، حسن سلوک، مصالحت، رواداری، عدل او انصاف دا ګرد (تول) شیان سره بیل بیل دی. د اسلام اهل که مصلحت وګوری، نو له هر کافر سره مشروع صلح او عهد او پیمان تړلی شی، ﴿ وَاِنۡ جَنَحُوۡا لِلسَّلۡمِ فَاجۡنَحۡ لَهَا وَتَوَكَّلۡ عَلَى اللّٰهِ ﴾ (١٠) جزء د أنفال (٨) رکوع (٦١) آیت د عدل او انصاف حکم لکه چه له تیرو آیتونو ښخه معلوم شوی دی د مسلم او کافر بلکه د بشر د هر فرد په حق کښی لازم دی د مروت حسن سلوک او د رواداری معامله له هغو کفارو سره کیدی شی، چه د اسلامی جماعت په مقابل کښی د عناد او دښمنی مظاهره ونه کړی، لکه چه د «الممتحنه» په سورت کښی به هم دی خبره تصریح شوی ده. پاتی شو «موالات» یعنی دوستانه اعتماد او یو له بل سره د وروړګلوی مرسته (مدد) او معاونت، نو هیڅ یو مسلمان حق نه لری چه دغسی تعلقات له کم غیر مسلم سره قائم کړی ـ هو! د صوری مؤالاتو چه تر ﴿ اِلَّاۤ اَنۡ تَتَّقُوۡا مِنۡهُمۡ تُقٰٮةً ﴾ لاندی داخل دی، او عمومی تعاون اجازه شته چه تری د اسلام او مسلمانانو پر وضعیت او طرز عمل کوم خراب اثر نه لویږی له ځینو راشده ؤ خلیفګانو ښخه چه په دی مورد کښی فوق العاده تشدید او تضییق منقول دی هغه دی محض په سد ذرائع او مزید احتیاط مبنی وګڼل شی.

## بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ ۘ

(دوی یو تر بله) ځینی دوستان دی د ځینو نورو (ځکه چه تول سره په کفر کښی شریک دی او ګرد (تول) سره تاسی ته متفق دی)

**تفسیر:** یعنی د مذهبی ګوندونو (ډلو) او په خپل منځ کښی بغض او عداوت سره سره کفار یو له بل سره خپلوی او دوستانه تعلقات لری. یهودی له یهودی، نصرانی له نصرانی سره دوستی کولی شی. د اسلامی جماعت په مقابل کښی ګرد (تول) سره دوستان او معاونان او ملګری دی او د «**الکفرملة واحدة**» مصداق تمثیلوی.

## وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ مِنْكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ ۘ

او هر چا چه دوستی وکړه له دوی سره له تاسی ځنی نو بیشکه چه دی له هم دوی ځنی دی (نو مؤمنان دی ځان وساتی له دوستی د کفارو)

**تفسیر:** یعنی د هم دوی په ډله کښی شامل دی. دا آیتونه د رئیس المنافقین عبد الله بن ابی باره کښی نازل شوی دی. د ده تعلقات له یهودانو سره زیات دوستانه وو، د ده داسی ګمان ؤ که پر مسلمانانو باندی کومه پیښه یا ربړ (تکلیف) واقع شی. او محمدی جماعت مغلوب شی نو له یهودانو سره به زمونږ دا دوستی په ښه راشی د هم دی واقعی په لوری په پخوانی آیت کښی اشاره وشوه نو فی الحقیقت له یهودانو سره د منافقانو د موالات اصلی منشا، هم دا وه چه یهودان د اسلامی جماعت مقابل او د اسلامی مذهب ډیر بد دښمنان وو، ظاهره ده هر هغه څوک چه له یهودو او نصاریٰ ؤ یا له کفارو یا له بل کوم مشرک جماعت سره په دی نیت او حیثیت موالات وکړی، چه هغه د اسلام دښمنان وی. نو د هغه په کفر کښی هیڅ شبه نشته. په منافقانو کښی ځینی نور کسان هم وو چه هغوی په «احد» کښی کله چه د جنګ وضعیت بدل شو او د حرب فضاء ئی مکدره او خره پره ولیده، داسی ویناوی ئی کولی چه اوس به مونږ له فلانی یهودی او فلانی نصرانی سره دوستی او ملګرتیا کوو، او که ضرورت پیښ شو د هغو په دین کښی به هم داخلیږو، نو د دا رنګ خلقو په نسبت هم د ﴿ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ مِنْكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ ﴾ ظاهری مدلول علانیه صادقیږی پاتی شول هغه مسلمانان چه ئی له داسی نیت او منشاء څخه له یهودانو یا نصرانیانو سره خپل دوستانه تعلقات قائموی څرنګه چه د دوی په نسبت هم قوی خطره موجوده ده، چه دوی د کفارو له ډیری ناستی ولاړی او اختلاط نه متاثر کیږی، او ورو ورو به د دوی مذهب اختیاروی، یا لږ تر لږه د کفر له شرکیه شعائرو او رسومو څخه دوی ته

کراهت او نفرت نه پاتی کیږی نو په دی اعتبار د ﴿ فَإِنَّهُۥ مِنۡهُمۡ ﴾ اطلاق پر دوی باندی هم کیدی شی لکه چه د (**المرء مع من احب**) حدیث د هم دی مضمون په لوری اشاره کوی.

---

**إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥١﴾**

---

بیشکه الله هدایت نه کوی قوم ظالمانو ته (چه ظلم کوی په ځانونو خپلو په دوستی کولو د کفارو سره)

---

**تفسیر:** یعنی هغه کسان چه د اسلام له دښمنانو سره موالات او دوستی کوی او دی له امله (وجی) پر خپل ځان او مسلمانانو ظلم کوی او د اسلامی جماعت د مغلوب او مقهور کیدلو په انتظار کښی وی نو د داسی بدبخت معاند دغاباز قوم په نسبت داسی امید نشی کیدی چه هغوی به د هدایت په لاره راشی.

---

**فَتَرَى ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ يُسَٰرِعُونَ فِيهِمۡ يَقُولُونَ نَخۡشَىٰٓ أَن تُصِيبَنَا دَآئِرَةٞۚ**

---

نو وبه وینی ته هغه کسان چه په زړونو د دوی کښی مرض (رنځ د نفاق) دی چه ځغلی به په (دوستی د) دوی کښی وائی به دوی(په عذر کښی چه) ویریږو له دی نه چه وبه رسیږی مونږ ته کومه حادثه

---

**تفسیر:** دا همغه کسان دی چه د دوی په زړونو کښی د شک او نفاق مرض دی او د الله تعالیٰ پر وعدو باندی اعتماد او د مسلمانانو پر حقانیت یقین نه لری. نو ځکه په مندو مندو ځی او د کافرانو په غیږو کښی پناه نیسی تر څو د موهومی غلبی په وخت کښی د فتحی له ثمراتو ځنی متمتع شی او د دوی په زعم کښی له هغو آفاتو او گردشونو څخه چه پر اسلامی جماعت راتلونکی دی محفوظ پاتی شی. د ﴿ نَخۡشَىٰٓ أَن تُصِيبَنَا دَآئِرَةٞ ﴾ معنی هم دا ده چه د دوی په زړونو کښی مکنونه وه لیکن هم دا د ﴿ نَخۡشَىٰٓ أَن تُصِيبَنَا دَآئِرَةٞ ﴾ الفاظ کله چه د محمد صلی الله علیه وسلم او مخلصو مسلمانانو په مخ کښی له یهودانو سره د دوستانه تعلقاتو لرلو له پاره ویل نو د زمانی د گردش مطلب به ئی معذرتاً داسی ظاهراوه چه یهودان زمونږ بیپاریان او معامله داران دی مونږ له دوی څخه قرض او پور آخلو که مصیبت یا قحط یا بله کومه پیښه راشی نو دوی د هم دی دوستانه تعلقاتو له امله (وجی) زمونږ په ښه او کار راځی او د اړتیا (احتیاج) په وخت کښی زمونږ لاس نیسی» د هم دی خیالاتو ځواب وروسته له دی

ورکاوه کیږی.

فَعَسَى اللَّهُ أَنْ يَأْتِيَ بِالْفَتْحِ أَوْ أَمْرٍ مِّنْ عِنْدِهِ فَيُصْبِحُوا عَلَىٰ مَا أَسَرُّوا فِي أَنْفُسِهِمْ نَادِمِينَ ﴿٥٢﴾

نو نژدی ده چه الله به راتله وکړی په بری (د رسول خپل په تقویت د اسلام سره) یا (به راوړی بل) یو حکم له خپل جانبه (په اظهار د حال د منافقینو) نو وبه ګرځی دوی په هغه شی چه پټ کړی دی دوی په نفسونو خپلو کښی (له شک او دوستی د کفارو) پښیمانه.

**تفسیر:** یعنی هغه وخت نژدی دی چه الله تعالیٰ خپل نبی صلی الله علیه وسلم ته قاطعه فتوحات او څرګند بری عطا کړی او مکی معظمی ته چه د ګردو (تولو) عربو یو منلی شوی مرکز ؤ په فاتحانه صورت سره ننوزی یا ماسوا له دی په خپل قدرت او حکم سره څه نور امور ور د مخه کړی چه د هغو امورو له لیدلو څخه د منافقانو دا ګرد (تول) باطل توقعات خاتمه وموی او دوی ته دا ورڅرګنده شی چه د اسلام له دښمنانو سره د موالاتو او دوستی نتیجه بی له دنیوی ذلت او رسوایی او اخروی دردناک عذاب څخه بل هیڅ شی نشته کله چه د فضیحت او خسران دا نتائج ورپیښ شی نو هلته به بی له افسوسه او ارمانه بل هیڅ شی په لاس نه ورځی.
(لګیا وی تل په لوبو له نن ورځی وی بیغم) (الان قد ندمت وما ینفع الندم) لکه چه هم داسی وشو د اسلام د عمومی فتحی او غلبی او د مکی معظمی د نیولو او د نورو کامیابیو له لیدلو څخه وروسته د اسلام د دښمنانو زړونه مات شول او دیر یهودان ووژل شول او نور له وطنه وشړل شول د منافقانو ګردی (تولی) هیلی او امیدونه برباد شول او د مسلمانانو په مخ کښی ښکاره دروغجنان ثابت شول هغه ګرد (تول) کوښښونه چه د یهودانو په موالاتو کښی ئی کړی وو. بیخی خراب او ابته شول. د دنیوی خسران او اخروی هلاکت طوقونه ئی په غاړو کښی ولویدل په وروستنی آیت کښی هم دا مضمون بیانیږی.

وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُوا أَهَٰؤُلَاءِ الَّذِينَ أَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ ۙ إِنَّهُمْ لَمَعَكُمْ ۚ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فَأَصْبَحُوا خَاسِرِينَ ﴿٥٣﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ

امنوا من یرتد منکم عن دینه فسوف یأتی الله بقوم یحبهم ویحبونه اذلة علی المؤمنین اعزة علی الکفرین ز یجاهدون فی سبیل الله ولا یخافون لومة لآئم ط

او وائی به هغه کسان چه مؤمنان دی (له تعجبه) آیا دا همغه کسان دی چه قسمونه کول دوی په الله سخت قسمونه خپل چه بیشکه دوی خامخا له تاسی سره دی (په دین کښی، نو فرمائی الله) باطل شول عملونه د دوی نو وګرځیدل دوی زیانکاران ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو) هر څوک چه مرتد شو (وګرځید) له تاسی نه له دین خپل څخه نو عنقریب به راولی الله داسی یو قوم چه محبت کوی(الله) له هغوی سره او محبت کوی دوی له الله سره متواضع او مهربان به وی پر مؤمنانو غالب زبردست به وی پر کافرانو باندی جهاد به کوی دوی په لاره د الله کښی (له پاره د ترقی د دین) او نه به ویریږی دوی له ملامتیا د هیڅ ملامت کوونکی،

تفسیر: په دی آیت کښی د اسلام د ابدی بقا او حفاظت په متعلق دا عظیم الشان پیشبینی او پخوا وینا کړی شوی ده، په پخوانیو آیتونو کښی له کفارو سره د موالاتو ممانعت کړی شوی ؤ، ممکن ؤ چه کوم سړی یا قوم د کفارو د موالاتو له سببه صریحاً له اسلامه وګرځی، لکه چه په ﴿ ومن یتولهم منکم فانه منهم ﴾ کښی تنبیه شوی ده نو قرآن کریم په نهایت قوت او صفایی سره خبر ورکړ، چه که دوی له اسلامه واوړی. نو خپلو ځانونو ته به زیان ورسوی، او د دوی له ارتداده اسلام ته هیڅ ضرر نه رسیږی حق تعالیٰ به د دی مرتدینو په مقابل کښی داسی قوم راولی، چه دوی به له الله تعالیٰ سره محبت لری او الله تعالیٰ به هم له هغوی سره محبت لری دوی به پر مسلمانانو شفیق او مهربان او د اسلامی دښمنانو په مقابل کښی به غالب او زبردست وی. دا پخوا ویل بحول الله وقوته په هر قرن کښی پوره کیږی، د ارتداد خورا (ډیر) لویه فتنه د نبی کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم له وفاته وروسته د صدیق اکبر رضی الله تعالیٰ عنه په خلافت کښی شروع شوی وه، او څو قسم مرتدان د اسلام په مقابل کښی ودریدل، مګر د صدیق اکبر رضی الله تعالیٰ عنه په ایمانی جرأت او اعلیٰ تدبیر او د مخلصو مسلمانانو په صمیمیت او سر جاروونکو (عاشقانه او سرفروشانه) اسلامی خدمتونو سره هغه د ارتداد اور وواژه شو او ګرد (تول) عرب ئی بیا سره متحد او له نوی سره ئی د ایمان او اخلاص په لاره روان کړل نن هم مونږ پر له پسی ګورو کله چه څو تنه جاهل او طامع افراد له اسلامی حلقی ځنی خارجیږی، نو له دوی ځنی زیات بهتر تعلیم لرونکی غیر مسلم پوهان او محققان د اسلام په فطری جذب سره کش او په اسلام مشرفیږی، او پاک خدای د مرتدانو د غوږ تاوولو او سرزنش له

پاره داسی وفاداران او سرجاروونکی مسلمانان منځ ته راولی چه د الله تعالیٰ په لاره کښی د هیچا د ملامتی او طعن او تشنیع څخه هیڅ پروا نه کوی.

**تنبیه:** د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات په تقریب د دی آیت د دغی پخوا وینا په تصدیق د عربو دری طائفی مرتدی شوی.

۱ـ بنی اسد (د طلیحه بن خویلد) قوم چه د پیغمبری دعوی ئی کړی وه او خالد بن ولید رضی الله تعالیٰ عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له جانبه د دوی په جهاد مامور شو چه طلحه تری شام ته وتښتید او بیا ئی اسلام راوړ.

۲ـ بنی مدلج د یمنی (ذوالحمار الاسود العنسی) قوم چه ده هم د پیغمبری دعوی کړی وه او پر تمام (یمن) متصرف شو بیا د نجاشی د خوریی (فیروز الدیلمی) په لاس د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات په شپه کښی ووژلی شو.

۳ـ بنی حنیفه د (مسیلمة الکذاب) قوم چه ده هم د پیغمبری دعوی کړی وه بیا دی د رسول صلی الله علیه وسلم له وفاته وروسته د (صدیق اکبر) په خلافت کښی د وحشی بن حرب د امیر حمزه رضی الله تعالیٰ عنه د قاتل په غشی او د (عبد الله بن زید الانصاریٰ) په توری ووژلی شو او د صدیق اکبر رضی الله تعالیٰ عنه په عهد کښی (۷) طائفی نوری هم مرتدی شوی.

۱ـ فرازه ۲ـ کینده ۳ـ غطفان ٤ـ بنو بکره ـ بنو یر بوع ٦ـ بنو سلیم ۷ـ د بنو تمیم ځینی سری. او د عمر فاروق رضی الله تعالیٰ عنه په عهد کښی غسان د (جبله بن الایهم) قوم نصرانیان شول، او (شام) ته وتښتیدل.

---

ذٰلِكَ فَضۡلُ اللّٰهِ يُؤۡتِيهِ مَنۡ يَّشَآءُ ۚ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيۡمٌ ﴿٥٤﴾

---

دا (مذکوره صفات) فضل د الله دی ورکوی ئی هغه چا ته چه اراده وکړی او الله فراخ دی (فضل، رحمت، احسان د ده) ښه عالم (خبردار په ټولو احوالو)

---

**تفسیر:** د انسان لوی سعادت او بری او د الله جل جلاله فضل دا دی چه دی په خپله د فتنی په وخت کښی د حق پر لاره ثابت قدم پاتی شی او په دی فکر کښی وی چه نور مؤمنان هم له هلاکته وژغوری (وساتی)، هغو بندګانو ته چه د پاک الله اراده وی له دی اعلیٰ سعادت او لوی فضل ځنی وافره برخه ورکوی، د ده فضل غیر محدود دی او هغه علیم او خبیر ذات ته ښه معلوم دی چه کوم یو بنده د هغه اهل او مستحق دی.

---

اِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّٰهُ وَرَسُوۡلُهٗ وَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوا الَّذِيۡنَ يُقِيۡمُوۡنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤۡتُوۡنَ الزَّكٰوةَ وَهُمۡ رٰكِعُوۡنَ ﴿٥٥﴾

بیشکه هم دا خبره ده چه دوست ستاسی(خاص) الله او رسول د ده دی او هغه کسان دی چه مؤمنان دی (مؤمنان) هغه کسان دی چه قائموی (سم ادا کوی سره له تولو حقوقو) لمونځ (یا) (صفت کوو د) هغو کسانو چه قائموی (سم ادا کوی سره له تولو حقوقو) لمونځ او ورکوی دوی زکوة او هم دوی رکوع (عاجزی) کوونکی دی(په لمونځ او زکوة خپل کښی) (یا) او ورکوی دوی زکوة (خیرات) حال دا چه دوی په رکوع (د نفلی لمونځ) ولاړ وی.

---

**تفسیر:** په پخوانیو آیاتونو کښی مسلمانان د یهودانو او نصرانیانو له موالاتو او رفاقت څخه منع شوی وو، چه د هغو له آوریدلو څخه وروسته طبعاً دا سوال پیدا کیده چه د مسلمانانو تعلقات او محبت او دوستی له کومو خلقو سره ښائی چه وی ؟ په دی آیت کښی دا ښوولی شوی دی چه د دوی اصلی رفیق ماسوا له الله جل جلاله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم او مخلصو مسلمانانو څخه بل هیڅوک نشی کیدی. (ځینی مفسرین وایی چه (عبد الله زوی د سلام) او نور د ده ملګری رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلل او ورته ئی وویل «یا رسول الله! زمونږ قوم له مونږ څخه د اسلام راوړلو له سبب خپلوی پری کری. او د مکانی لریوالی له جهته ستاسی له مجلسه هم محروم یو، نو مونږ څرنګه ژوندون وکړو؟ نو د دوی د تسلی له پاره دا آیت نازل شو. ﴿إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ﴾ «رضینا بالله وبرسوله و بالمؤمنین اولیاء» د ﴿وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ رَاكِعُونَ﴾ په نسبت روایت دی چه علی کرم الله وجهه یوه ورځ په رکوع کښی ؤ، چه چا سوال تری وکړ او د ده په لاس کښی ګوته وه، نو په قلیل عمل سره ئی وویسته او ور وایی چوله، نو دا آیت نازل شو.

د پاس آیت دوه ترجمی شوی دی

۱ـ دا چه دوهم ﴿الَّذِينَ﴾ یا بدل وی له تیره﴿الَّذِينَ﴾ څخه یا خبر دی د مبتداء محذوف نه چه «هم» دی.

۲ـ دا چه دوهم ﴿الَّذِينَ﴾ منصوب شی په مدحه سره. او ﴿وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ﴾ الآیة ـ حاًنته جمله شی.)

---

وَمَن يَتَوَلَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالَّذِينَ آمَنُوا فَإِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْغَالِبُونَ ﴿٥٦﴾ ع

---

او هر څوک چه دوستی کوی له الله سره او له رسول د ده سره او له هغو

کسانو سره چه مؤمنان دی نو بیشکه چه ډله د الله هم دوی دی غالبان (پر تولو)

**تفسیر:** د کفارو د کثرت او د مسلمانانو د قلت له لیدلو ځنی ممکن ؤ چه کم ضعیف القلب او ظاهر بین مسلمانان به په دی تردد کښی لویده چه له ګردی (تولی) دنیا سره د موالاتو انقطاع او د لږو مسلمانانو د رفاقت د اکتفاء په اثر غلبه خو پریږده بلکه د کفارو د حملو او یرغلونو له امله (وجی) د مسلمانانو د ژوند او بقا حفاظت هم مشکل دی نو د داسی کسانو د تسلی له پاره ئی وفرمایل چه د مسلمانانو ظاهری بی‌سری او بی‌سامانی او قلت ته مه ګورئ! په هره خوا کښی چه الله تعالیٰ او رسول الله او وفادار مسلمانان وی همغه پله به درنوی.
په خصوصیت سره دغه آیت د حضرت عباده ابن صامت رضی الله تعالیٰ عنه په صفت کښی نازل شوی دی، ځکه د ده تعلقات د (بنی قینقاع) له یهودانو سره ډیره ښه ؤ مګر ده د الله جل جلاله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د موالاتو او د مسلمانانو د رفاقت له امله (وجی) له هغوی سره خپل تعلقات پری کړل رضی الله عنه)

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوا۟ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا۟ دِينَكُمْ هُزُوًا وَلَعِبًا مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِكُمْ وَٱلْكُفَّارَ أَوْلِيَآءَ ۚ

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو!) مه نیسئ هغه کسان چه نیولی دی دوی دین ستاسی مسخره او لوبی له هغو کسانو څخه چه ورکړی شوی دی دوی ته کتاب پخوا له تاسی څخه او (مه نیسئ) کافران دوستان

**تفسیر:** دلته له کفارو ځنی مشرکین مراد دی لکه چه له عطف ځنی ظاهر دی

وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٥٧﴾

او وویریږئ له الله څخه (په ترک د دوستی د کفارو کښی) که یئ تاسی مؤمنان (په رښتیا سره)

**تفسیر:** په تیرو آیتونو کښی مسلمانان د کفارو له موالاتو ځنی منعه کړی شوی وو، په دی آیت کښی په یوه خاص مؤثر عنوان سره د هغه ممانعت تاکید او له موالاتو څخه نفرت کړی شوی

دی، د یوه مسلمان په نظر کښې هیڅ یو شی د ده له مذهبه څخه معظم او محترم کیدی نشی نو ده ته ئی وښوول چه یهود او نصاریٰ او مشرکان ستاسی په مذهب باندی طعن او استهزاء کوی او پر شعائر الله (آذان او نورو) توکی او مسخری کوی، او هغه کسان چه ساکت دی هغوی هم د دی شنیعو افعالو په لیدلو سره خپل نفرت نه څرګندوی بلکه خوښیږی. د کفارو پر دغو احمقانه ؤ او سپکو حرکاتو باندی له اطلاع څخه وروسته آیا هغه مسلمان چه په زړه کښې د الله جل جلاله ویره او د ایمانی غیرت لږ څه شائبه لری له هغه قوم سره د موالاتو او دوستی د دود (رواج) او دستور د پیدا کولو یا ساتلو له پاره به یوه شیبه (ساعت) هم خوښ وی؟ که د دوی د کفر او عناد او له اسلام سره د دوی له عداوت څخنی نظر قطع کړی شی نو په دی قیم دین باندی د دوی هم دا تمسخر او استهزاء علاوه پر نورو اسبابو د موالات د ترک له پاره یو مستقل سبب دی.

وَإِذَا نَادَيْتُمْ إِلَى الصَّلَوٰةِ اتَّخَذُوهَا هُزُوًا وَلَعِبًا ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُونَ ﴿٥٨﴾

او کله چه غږ کوئ تاسی (او خلق رابولئ) لمانځه ته (یعنی آذان کوئ!) نو نیسی دوی هغه (لمونځ یا اذان) مسخری او لوبی (او ورپوری خاندی) دا مسخری په سبب د دی دی چه بیشکه دوی یو قوم دی چه هیڅ عقل نه لری.

**تفسیر:** یعنی کله چه آذان کوئ نو دوی سوځوی او له ډیره قهره پری مسخری کوی، چه دا تمسخر د دوی د لوی حماقت او بی‌عقلی دلیل دی د آذان په کلماتو کښې د پاک الله د عظمت او کبریاء اظهار او د توحید اعلان او د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د رسالت اقرار دی چه د ګردو (ټولو) سابقینو انبیاؤ او آسمانی کتابونو مصدق دی او آذان پر لمانځه هم دال دی چه د عبودیت ګردو (ټولو) اوضاعو ته جامع او د بندګی په نهایی درجی باندی دلالت کوی. آذان د دارینو فلاح او د ډیر لوی بری د حاصلولو له پاره دعوت دی او پرته (علاوه) له دغو منافعو څخه بل هیڅ شی پکښې نشته بیا نو په آذان کښې د خندا وړ (لایق) کوم شی دی چه تاسی ای کفارو! پری خاندئ او توکی پری کوئ؟ پر داسی د نیکی او د حق او صداقت غږ باندی تمسخر او توکی کول، د هغه سړی کار دی چه دماغ ئی بیخی له عقله تش او له سره د نیکی او بدی تمیز نشی کولی.

په ځینو روایتونو کښې راغلی دی چه په مدینې منوری کښې یوه نصرانی کله چه به په آذان کښې «اشهدان محمداً رسول الله» آوریده ـ نو ویل به ئی. «**قد حرق الکاذب** ـ په تحقیق دروغجن وسوځیده! یا و دی سوځی!» د ده نیت له دی الفاظو څخنی هر څه چه ؤ ـ ؤ به مګر په

واقع کښې دا خبره د هم ده له حاله سره مناسبه وه، ځکه چه هم دا خبيث په خپله دروغجن ؤ او د اسلام د عروج او شيوع له ليدلو څخه د حسد په اور کښې سوځيده، اتفاقاً کومه جينۍ سره له اوره د ده کورته په داسې وخت کښې راغله چه دی له خپل کور او کهول سره ويده ؤ د اور کوم بځرکی په ناپوهی سره د دی جينۍ له لاسه هلته ولويده چه د هغه له لګيدلو څخه هغه کور له تولو وسيدنکو سره چه پکښې ويده وو وسوځيد. او په دی ډول (طريقه) سره الله تعالیٰ مونږ ته دا راښکاره کړه چه دروغجنان د دوزخ له اوره پخوا په دنيا کښې هم په اور کښې سوځی. له آذانه سره د استهزاء کولو يوه بله واقعه په صحيحو روايتونو کښې هم منقوله شوی ده چه د مکې معظمې له فتحې څخه وروسته حضرت محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم له (حنين) څخه بيرته راته په لاره کښې حضرت بلال رضی الله تعالیٰ عنه آذان وکړ څو تنو وړوکو هلکانو چه په دوی کښې ابو محذوره رضی الله تعالیٰ عنه هم ؤ پر آذان باندی وخندل او په تمسخر ئی پيښې کولې رسول الله مبارک د هغوی د نيولو او خپل حضور ته د بللو امر وکړ آخری نتيجه ئی دا شوه، چه د ابو محذوره رضی الله تعالیٰ عنه په زړه کښې الله تعالیٰ د اسلام مينه واچوله او د حضرت محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم له حضوره د مسجد الحرام مؤذن مقرر شو. او د الله تعالیٰ په قدرت هغه توکی رښتيا او هغه نقل اصل شو.

---

قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ هَلْ تَنقِمُونَ مِنَّآ إِلَّآ أَنْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْنَا وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلُ وَأَنَّ أَكْثَرَكُمْ فَٰسِقُونَ ﴿٥٩﴾

---

ووايه (ای محمده) چه ای اهل د کتابو! آيا عيب ګڼئ تاسی له مونږه (او کينه کوئ يعنی نه کوئ) مګر په دی سبب چه ايمان راوړی دی مونږ پر الله او پر هغه کتاب چه ليږلی شوی دی مونږ ته او پر هغو (کتابونو) چه ليږلی شوی دی پخوا (له دی نه) او (بل په دی سبب) چه بيشکه زيات له تاسی فاسقان دی.

---

**تفسير:** پر کوم کار چه طعن يا خندا کيږی له دوه سببونو څخه به خالی نه وی يا به هغه کار په خپله دا ستهزاء وړ (لايق) وی يا به د کار کوونکی حالت د استهزاء وړ (لايق) وی په پخوانی آيت کښې دا ښوولې شوی ده چه په آذان کښې داسی يو شی نشته چه پر هغه به پرته (علاوه) له احمقه او خفيف العقله بل څوک طعن يا استهزاء وکړی، په دی آيت کښې د آذان کوونکو له مقدسو حالاتو څخه د سوال په عنوان تنبيه ورکړی شوی ده، يعنی استهزاء کوونکی سره له دی چه د کتاب او په شريعتونو باندی د پوهی دعوی کوی دوی دی لږ څه فکر وکړی! او د انصاف له مخی دی راوښيی! چه دوی له مسلمانانو سره دومره ضد او کينه ولی کوی؟ او په داسی يو بد

دول (طریقه) چه دوی اسلام ته گوری آیا اسلام د دوی په زعم هومره بد او د خندا او ملندو وړ (لائق) دی؟ بې له دی چه مونږ د واحد لا شریک له الله او د ده پر تولو منزلو کتابونو او د ده پر گردو (تولو) لیږل شویو رسولانو باندی په صدق سره ایمان لرو او بالمقابل د استهزاء کوونکو دا حال دی چه نه د الله تعالیٰ په رښتیا او صحیح توحید قائم دی او نه د گردو (تولو) انبیاؤ علیهم السلام او رسولانو علیهم السلام تصدیق او تکریم کوی. نو اوس هم دا تاسی د انصاف له مخی ووایئ چه د دغو د الله تعالیٰ د منتها درجی نافرمانانو د الله تعالیٰ پر فرمان منونکو بندگانو باندی خندل او ملندی وهل، او طعن او تشنیع به ځرنگه وی؟ او تر کومه ځایه پوری دوی ته دا حق حاصل دی؟

---

قُلْ هَلْ أُنَبِّئُكُمْ بِشَرٍّ مِّنْ ذٰلِكَ مَثُوْبَةً عِنْدَ اللّٰهِ ۚ مَنْ لَّعَنَهُ اللّٰهُ وَغَضِبَ عَلَيْهِ وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيْرَ وَعَبَدَ الطَّاغُوْتَ ۚ أُولٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَّأَضَلُّ عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ ﴿٦٠﴾

---

ووایه (ای محمده دوی ته) آیا خبر کړم تاسی په (هغه چا چه) ډیر بد(عیب لری) له دی (چه تاسو ئی زمونږ عیب گڼئ) له جهته د جزا په نزد د الله (ډیر بد) هغه څوک دی چه لعنت کړی دی پر هغه الله او غضب ئی کړی دی پر هغه او گرځولی ئی دی له ځینو د دوی څخه بیزوگان او (له ځینو د دوی څخه) خنزیران او (هغه کسان دی چه) بندگی ئی کړی ده د شیطان هم دا (ملعونان) ډیر بد دی له جهته د ځای (چه دوزخ دی) او ډیر گمراه دی له سمی صافی لاری (د حق دین څخه)

---

**تفسیر:** یعنی که پر «ایمان بالله» استقامت او په هغه شی د زړه تصدیق چه د الله تعالیٰ له لوری په هره زمانه کښی نازل شوی دی ستاسی په زعم کښی د مسلمانانو ډیر لوی جرم او زښته (ډیره) لویه گناه ده او له دی له امله (وجی) تاسی دوی د طعن او ملامتی مورد گرځوئ نو راځئ چه زه تاسی ته د داسی یو قوم پته او سراغ درکړم، چه په خپل شرارت او گندگی کښی بدترین د مخلوقاتو دی او د الله تعالیٰ د لعنت او د غضب اثر نن هم پر دوی باندی ظاهره او ښکاره دی او د دوی ډیر افراد د خپلو مکاریو او بیحیائیو او د دنیوی حرص په سزا، بیزوگان او بد ځناوران گرځیدلی وو او د الله جل جلاله له بندگی ځنی وتلی د شیطان غلامی ئی غوره کړی وه. که انصاف وکړی شی نو په اصلی معنی سره بدترین د مخلوقاتو او گمراه قوم هم دوی دی او هم دوی ستاسی د طعن او استهزاء مستحق کیدی شی او هغه هم دا تاسی یئ!

وَإِذَا جَآءُوكُمْ قَالُوٓا آمَنَّا وَقَد دَّخَلُوا بِالْكُفْرِ وَهُمْ قَدْ خَرَجُوا بِهِ ۚ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا يَكْتُمُونَ ﴿٦١﴾

او كله چه راشي (دا منافقان) تاسي ته وائي دوى چه ايمان راوړى دى مونږ حال دا چه په تحقيق ننو تلى دى دوى (ستاسى په مجلس كى) په كفر سره او دوى په تحقيق وتلى هم دى (ستاسى له مجلس څخه) په كفر سره او الله ښه عالم (ښه خبر) دى په هغه چه وو دوى چه پټول (به ئى له نفاقه)

**تفسير:** دلته د ځينو هغو مخصوصو استهزاء كوونكو افرادو بيان دى چه په غياب كښى به ئى پر اسلامي مذهب طعن او تشنيع او پر مسلمانانو به ئى مسخرى كولى ليكن كله به ئى چه له نبى كريم صلى الله عليه وسلم يا له مخلصو مسلمانانو سره ليدل نو د نفاق له لارى څخه به ئى خپل ځان مسلمان ښكاروه حال دا چه له اوله تر آخره پورى به د يوى شيبى له مخى هم د دوى تعلق له اسلامه سره نه ؤ۔ او نه به د رسول الله صلى الله عليه وسلم زبانى وعظ او تذكير پر دوى څه اثر غورځاوه ـ نو آيا دوى د ايمان او د اسلام په تش لفظ ويلو سره (معاذالله) الله تير ايستى شي؟ كه د هغه عالم الغيب والشهاده په نسبت چه پر هر قسم زړه او پټو اسرارو مطلع دى، د دوى گمان داسى وى چه د ده خوشالى تش په لفظى ايمان او يوائځى د خولى په وينا سره حاصلولى شو نو له دى ځنى پورته بل كوم يو حركت د استهزاء او تمسخر وړ (لائق) دى؟ گواكى له دى ځايه د يهودو او نصاراو د هغو خندوونكو افعالو او حركاتو بيان شروع شو چه د هغو له تنبيه څخه وروسته د مسلمانانو د استهزاء كولو په ځاى، هغوى په خپله د استهزاء وړ (لايق) گرځى، په وروستينو آيتونو كښى هم د هم دى مضمون تتميم او تكميل دى.

وَتَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ يُسَارِعُونَ فِي الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَأَكْلِهِمُ السُّحْتَ ۚ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٦٢﴾

او ته به وينى ډير له دغو (منافقانو) څخه چه منډى به وهى په گناه كښى (چه حصول د حرامو يا دروغ ويل دى) او په ظلم كښى (چه زيادت دى په معاصيو كښى) او په خوراك د دوى حرامو لره (لكه رشوت) خامخا بد دى هغه كار چه وو دوى چه كاوه ئى

**تفسير:** غالباً له «اثم» څخه لازمى او له «عدوان» څخه متعدى گناه مراد ده. يعنى د دى خلقو

حال دا دی چه په ډیر شوق او رغبت سره د هر قسم گناهونو په لوری منډی وهی اعم له دی چه د هغو اثر د دوی په ذات پوری محدود پاتی شی - یا نورو ته هم ورورسیږی د هغو خلقو چه اخلاقی حالت ئی داسی سپک او وران وی - او په حرام خوړلو کښی د دوی عمل داسی وی، نو د دوی په خرابی کښی څه شبه پاتی نه ده. دا د دوی د عوامو حال او خوی ؤ وروسته له دی نه د دوی د خواصو بیان شوی دی.

لَوْلَا يَنْهٰىهُمُ الرَّبّٰنِيُّوْنَ وَالْاَحْبَارُ عَنْ قَوْلِهِمُ الْاِثْمَ وَاَكْلِهِمُ السُّحْتَ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ ﴿٦٣﴾

ولی نه منع کوی دوی ربانی عارفان او عالمان له ویلو د دوی د گناه (د دروغو خبرو) او له خوړلو د دوی د حرامو (لکه رشوت او سود) خامخا ډیر بد دی هغه کار چه وو دوی چه کاوه ئی (چه هغه سکوت دی له نهی د منکر نه).

**تفسیر:** هر کله چه الله تعالیٰ کوم قوم تباه کوی نو د هغو عوام په گناهونو او نافرمانیو کښی ډوبیږی او د هغو خواص یعنی علماء او مشائخ گونگی شیطانان گرځی د بنی اسرائیلو هم دا حال شو چه عوام ئی عموماً په دنیوی لذائذو او شهواتو کښی لگیا او د الله تعالیٰ عظمت او جلال او د ده قوانین او احکام ئی هیر کړل او هغه کسان چه علماء او مشائخ گڼل کیدل د «امر بالمعروف» او «نهی عن المنکر» فریضه ئی ترکه کړه ځکه چه د دنیا په حرص او د شهوت په اتباع کښی دوی له عوامو ځنی هم وړاندی تللی وو له مخلوق څخه خوف یا د دنیا طمع د حقانی غږ د پورته کولو مانع وگرځیدل د هم دی سکوت او مداهنت په سبب پخوانی قومونه تباه شوی دی - نو د هم دی له پاره محمدی امت ته علی صاحبها افضل الصلوٰة والتسلیم د قرآن او حدیث په ډیرو نصوصو کښی زیات تاکید او تهدید شوی دی چه په هر وخت کښی او د هر سری په مقابل کښی د «امر بالمعروف، نهی عن المنکر» له فریضی ځنی تغافل ونه کړی او سترگی تری پټی نه کړی

وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ يَدُ اللّٰهِ مَغْلُوْلَةٌ

او وایی یهودیان لاس د الله بند کړی شوی دی (یعنی مونږ ته هیڅ نه راکوی او روزی ئی راباندی تنگه کړی ده)

**تفسیر:** یعنی د نبی کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم د بعثت په وخت کښې د کتابیانو زړونه د دوی د شرارت، کفر، طغیان، بدکاریو، حرام خوړلو او د نورو خرابو کارونو له ممارسته دومره مسخ شوی وو چه د الله تعالیٰ په دربار کښې له سپین سترګی او ګستاخی څخه هم هیڅ نه ویریدل د پاک الله مرتبه د دوی په نزد د یوه معمولی انسان له مقام څخه څه زیاته نه وه. د حق تعالیٰ په دربار کښې به ئې بی تکلفه داسی واهی او خوشی چتی (بیکاره) خبری کولی چه د هغو له آوریدلو څخه د هر چا ویښتان جګ (نیغ) دریدل کله به ئې ویل ﴿قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ فَقِيرٞ وَنَحۡنُ أَغۡنِيَآءُ﴾ بیشکه الله فقیر دی او مونږ غنیان یو کله به دا الفاظ د دوی له خولی څخه وتل ﴿وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ يَدُ ٱللَّهِ مَغۡلُولَةٌ﴾ د الله لاس بند شوی دی» د دوی مراد به یا هغه شی و چه له «قالوان الله فقیر» څخه ئې مراداوه چه معاذ الله الله تعالیٰ فقیر شوی دی، او (استغفر الله) د ده په خزانه کښې څه نه دی پاتی یا به «غل الید» کنایه له بخل او امساکه وی، یعنی فقیر شوی خو نه دی، مګر په دی ورځو کښې بخیلی او کنسکی (کنجوسی) کوی (العیاذ بالله) په هر حال سره هره معنی چه تری واخیستل شی د دی د کفر کلمی منشاء دا وه کله چه د تمرد او طغیان په بدل کښې الله تعالیٰ پر دی ملاعینو ذلت ، نکبت، تنګسه، ضیقت، بدحالی ورانی او نور بلیات مسلط کړل، نو د دی په ځای چه دوی په خپلو دی بدو چارو او شرارتونو متنبه او پښیمان شی بالعکس دوی د الله تعالیٰ په دربار کښې په ګستاخی او سپین سترګی شروع وکره، ښائی داسی کوم خیال دوی ته پیدا شوی وی چه مونږ د انبیاؤ اولاده بلکه په خپله د الله تعالیٰ ځامن او خپلوان یو ـ نو بیا دا څرنګه معامله ده چه نن د بنی اسمٰعیل علیه السلام اولاده په دنیا کښې انتشار مومی، ارضی فتوحات ئې په برخه کیږی او سماوی برکات پری نازلیږی او مونږ چه بنی اسرائیل او الله زمونږ او مونږ د الله جل جلاله یو داسی ذلیل، مغلوب، بدحال ، پریشان، سرګردانه او در په در خاوری په سر ګرځو. مونږ د هغو بنی اسرائیلو اولاده یو او نن هم همغه ﴿أَبۡنَٰٓؤُاْ ٱللَّهِ وَأَحِبَّٰٓؤُهُۥ﴾ یو، چه پرون وو، مګر معلومیږی چه د هغه الله جل جلاله په خزانه کښې چه مونږ ئې اولاده او محبوب یو معاذالله څه کمی راغلی دی یا نن ورځ بخل او امساک د هغه لاس ترلی دی» دا احمقان په دی نه پوهیږی چه د الله تعالیٰ خزانی لامحدوده او د ده کمالات غیر متبدل او لامتناهی دی که (معاذالله) د ده په خزانه کښې څه نه وی پاتی، یا ئې د مخلوقاتو له اعانت او تربیی څخه لاس اخیستی وی نو د دی دنیا نظام به څرنګه قائم پاتی شوی وی، او دا د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم او د ده اصحابو پر مخ تګ او عروج او فروغ چه تاسی ئې په خپلو سترګو سره ګورئ د کومی خزانی او د چا د کرم، منت او احسان مرهون دی؟ لهذا ښائی تاسی وپوهیږئ چه د ده لاس نه دی بند شوی. هو لستاسی د ګستاخیو او شراراتو له نحوسته د الله تعالیٰ هغه لعنت او ترتنه چه پر تاسی نازله شوی ده د هغی په سبب د الله تعالیٰ دا ځمکه د هغی له وسعت سره پر تاسی تنګه کړی شوی ده او وروسته له دی لا دریاندی تنګیږی او د خپلی تنګسی او نیستی نسبت الله تعالیٰ ته کول ستاسی انتهائی جهالت او ناپوهی ده.

**غُلَّتْ أَيْدِيهِمْ وَلُعِنُوا بِمَا قَالُوا بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ يُنفِقُ كَيْفَ يَشَاءُ**

تړلي دي وي (يا تړلي شوي دي) لاسونه د هم دوي او لعنت کړی شوی دی پر دوی په سبب د هغه چه وائی دوی بلکه يدين د ده غځولي (کشاده) دي روزی ورکوی (هر چا ته او صرفوی ئی) هر رنګه چه اراده وفرمائی

**تفسير:** دا د ښيرا په دول (طريقه) پخوا ويل يا د دوی د واقعي احوالو څخه خبر ورکول دی لکه چه واقعي بخل او جبن (يا ذلت او مسکنه) د دوی د خيراتونو استعداد ورک کړی او د خير لاسونه ئی بيخی بند کړی ؤ ﴿ بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ ﴾ داسی نه ده لکه چه دوی وائی بلکه يدين د ده غځولي او جود ئی ډير او کرم ئی له حده تير دی) چيری چه الله تعالیٰ ته وجه» «يدين» «سمع» «بصر» (کلام) او نور نعتونه ذکر کړی شوی دی نه ښائی چه سری تيروځی داسی توهم وکړی چه (معاذالله) هغه پاک ذات هم د مخلوقاتو په شان جسم او جسمانی اعضاء لری حال دا چه داسی نه دی پس هم داسی چه د الله تعالیٰ ذات او وجود بيمثال او بی نظير او بی ساری وحده لا شريک دی. د ده جل جلاله حيات علم، او نور ګرد (تول) نعتونه او صفتونه هم هيڅ يو نظير، مثال او کيفيت نه لری او نظير او مماثل ئی ما سوا له همغه څخه بل شی نشی کيدی جل جلاله، اعظم شانه اعلیٰ برهانه! اولیٰ سلطانه.

ای له وهمه له خياله له ګمانه له قياسه څنی پورته
ای له هغه چه مو لوستی، اوريدلی او ليدلی ته ئی پورته
دفترونه مو شو بشپړ، او تمام شول ګرد (تول) عمرونه
په اول د وصف ستا کښی يو لا پاتی، رب ئی پورته

هم داسی د الله تعالیٰ ګرد (تول) نعتونه او صفتونه هم وګڼئ خلاصه هم داسی چه د الله تعالیٰ ذات بی له «کم او کيف» دی همغسی د الله د وجه، سمع بصر، يد او د نورو نعتونو، او صفاتو معانی هم د ده د اقدس ذات سره لائق او د ده د اعلیٰ شان سره ور (لائق) دی او زمونږ د «کم او کيف» او تعبير او بيان له احاطی څخه بالکل وتلی او وراء الوراء دی. ﴿ لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ ﴾ (٢٥) جزء د الشوریٰ «١١» آيت (٢ رکوع) حضرت شاه عبدالقادر رحمة الله عليه پر دی آيت کومه فائده چه ليکلی ده په هغی کښی له دوو لاسونو څخه د «مهر لورينه» او د «قهر ترتنه» لاس مراد اخيستی دی. يعنی نن ورځ د الله تعالیٰ د «مينی لاس» په (محمدی امت) باندی ـ او د «قهر لاس» ئی پر بنی اسرآئيلو باندی پرانيتلی دی ـ لکه چه په پخوانيو آيتونو کښی اشاره، وشوه.

﴿ يُنفِقُ كَيْفَ يَشَاءُ ﴾ روزی ورکوی هر چاته او صرفوی ئی هر رنګه چه اراده وفرمائی په بالغه

حکمت او مصلحت خپل یعنی په دی باندی هم دی ښه پوهیږی چه (په بالغه حکمت او کامله مصلحت او مطلقه اراده او مشیت خپل) په کوم وخت ، او په چا ، او په څه او څومره صرف کړه شی؟ کله د امتحان یا اصلاح په غرض یو وفادار بنده په تنگسه او عسرت باندی مبتلا کوی، کله ده ته د وفاداری په مقابل کښی له اخروی نعمتونو څخه د مخه د دنیوی برکاتو ورونه هم خلاصوی بالمقابل یوه مجرم او متمرد ته پخوا د آخرت له سزا څخه ، د تنگسی د ژوند د تنگوالی او د دنیوی نورو مصیبتونو او آفتونو سزا ورکوی او کله ورته دنیوی ساز او سامان فراخوی او زیات مهلت ورکوی چه یا د الله تعالیٰ له احساناتو څخه متاثر او له خپل فسق او فجور څخنی وشرمیږی یا د خپل شقاوت جام تر څنډو (غاړو) ډک کړی او د انتهایی سزا مستحق شی د دی مختلفو احوالو او اغراضو او متنوعو حکمتو په موجودیت کښی د کوم سړی د مقبولیت یا د مردودیت فیصله د پاک الله په اطلاع سره یا په خارجی قرائنو یا د احوالو په بنا سره کولی شی ـ لکه چه د یوه غله لاس پریکړی شی یا د ډاکتر له خوا د کوم رنځور لاس پریکړی شی د دواړو په نسبت مونږ د خارجی احوالو او قرائنو له مخی پوهیدلی شو چه هغه د سزا دول (طریقه) ، او دغه د دواء په قسم د شفقت او علاج له امله (وجی) پریکړی شوی دی.

وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم مَّا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَكُفْرًا

او خامخا زیاتوی هرومرو (خامخا) ډیرو ته له دوی نه هغه (قرآن) چه نازل کړی شوی دی تاته له ربه ستا سرکښنی او کفر،

**تفسیر:** د دوی د سپین سترگی او گستاخی ځواب ورکړی شوی دی. لیکن د قرآن کریم له هسی حکیمانه ځوابونو څخه د دی معاندینو او سفهاؤ تسکین نه حاصلیږی، بلکه د الله تعالیٰ د کلام له آوریدلو څخه دوی په خپل شرارت او انکار لا پسی تینگار (همیشه والی) او زیادت کوی که صحی غذا د یوه رنځور معدی ته ورسیږی، خو د هغی له سببه د ده مرض لا زیات شی نو دا به د هغی غذا خرابی او قصور نه وی بلکه د مریض د مزاج ورانی او خرابی به وی. ﴿ كَثِيرًا ﴾ د ﴿ لَيَزِيدَنَّ ﴾ له پاره مفعول او پر فاعل باندی چه ﴿ مَّا أُنزِلَ إِلَيْكَ ﴾ دی مقدم دی.)

وَأَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ

او غورځولی دی مونږ په منځ د دوی کښی عداوت (دښمنی) او بغض (نفرت) تر ورځی د قیامت پوری

**تفسیر:** اگر که اوس د یهودو د مقولی ذکر شوی دی لیکن د ﴿ وَأَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ ﴾ څخه غالباً دوی

او د دوی نور گرد (تول) ملگری مراد دی یعنی د یهودو او نصارئ ؤ د گردو (تولو) اهل کتابو حال ئی بیان وفرمایه لکه چه پخوا له دی نه په هم دی سورت کښی ذکر شوی دی. او په وروستنی آیت کښی گرد (تول) اهل کتاب ته خطاب فرمائی مطلب داسی شو هومره چه د دوی شرارت او انکار ترقی کوی، هغومره د اسلام او مسلمانانو پر خلاف سازشونه او پلمی (منصوبی) جوړوی او د جنگ د اور لگولو لاره تیاروی، لیکن د دوی په خپلو منځونو کښی هم داسی یو نفاق لویدلی دی چه له سره نه ورکیږی، نو له هم دی سببه د اسلامی اخوت په خلاف د دوی جنگی تیاری بری ونه مونده.

كُلَّمَآ أَوْقَدُوا۟ نَارًا لِّلْحَرْبِ أَطْفَأَهَا ٱللَّهُ ۚ وَيَسْعَوْنَ فِى ٱلْأَرْضِ فَسَادًا ۚ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٦٤﴾

هر کله چه بلاوه دوی اور دپاره د جنگ (د رسول الله نو) مړ کاوه به هغه (اور) الله او سعیه کوی (ځغلی) دوی په ځمکه کښی له پاره د فساد اچولو او الله نه خوښوی فساد کوونکی (نو په سزا ئی رسوی).

**تفسیر:** له دی نه معلومه شوه تر څو په مسلمانانو کښی یو له بل سره محبت او اخوت مستحکم وی او دوی د رشد او صلاح په لاره سم رهی (روان) وی او له فتنی او فساد ځنی اجتناب کوی (لکه چه په «اصحابو کرامو رضوان الله تعالیٰ علیهم اجمعین» کښی دغه خصلتونه وو) تر هغه وخته پوری د کتابیانو گرد (تول) کوښښونه د دوی په مقابل کښی بیکاره ثابتیږی

وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ ٱلْكِتَـٰبِ ءَامَنُوا۟ وَٱتَّقَوْا۟ لَكَفَّرْنَا عَنْهُمْ سَيِّـَٔاتِهِمْ وَلَأَدْخَلْنَـٰهُمْ جَنَّـٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٦٥﴾

او که بیشکه اهل د کتابو ایمان راوړی وی په (محمد صلی الله علیه وسلم) او پرهیز ئی کړی وی (له معاصیو څخه) نو خامخا لری کړی به وی مونږ له دوی ځنی گناهونه د دوی او خامخا ننویستلی وه به مونږ دوی جنتونو د نعمتونو ته (هغه جنتونو ته چه نعمتونه په کښی دی)

**تفسیر:** یعنی سره له دومره شدیدو جرائمو او سختو شرارتونو که اوس هم کتابیان تائب شی او

په نبی کریم صلی الله علیه وسلم او قرآن عظیم ایمان راوړی او تقویٰ اختیار کړی، نو د توبی ور نه دی بند شوی حق تعالیٰ د خپل کامل فضل او رحمت له امله (وجی) دوی ته له خپلو اخروی او دنیوی نعمتونو څخه سر لوړی فرمایی. د ده رحمت ډیر لوی دی په خجالت او اعتراف سره که مجرمان هم ورورآندی شی نه ئی مایوسوی او نه ئی بی هیلی (نا امیده) کوی.

وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُوا التَّوْرَاةَ وَالْإِنجِيلَ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْهِم مِّن رَّبِّهِمْ لَأَكَلُوا مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِم ۚ

او که بیشکه دوی درولی وی (احکام د) تورات او انجیل (د احکامو په تعمیل سره یی) او هغه (کتاب) چه نازل کړی شوی دی دوی ته له (جانبه د) رب د دوی (د محمد «صلی الله علیه وسلم» په وسیله) نو خامخا خوړلی به ئی (میوی) له پاسه (د سرونو) خپلو او (غلی) له لاندی د پښو خپلو (د ځمکی نه)

**تفسیر:** یعنی که د قرآن کریم ئی (چه له تورات او انجیل څخه وروسته د دوی د تنبیه او هدایت له پاره نازل شوی دی) په عمل سره قائم کړی وی ځکه چه بی د قرآن کریم له تسلیم څخه د «تورات» او د «انجیل» او د ګردو (تولو) آسمانی کتابونو د اقامت مطلب اوس هم دا کیدی شی چه قرآن عظیم او رسول کریم صلی الله علیه وسلم ومنی، چه د پخوانیو کتابونو له پیښ بینیو او پخوا ویلو سره سم رالیږلی شوی دی ګواکی د «تورات» «انجیل» د اقامت حواله ئی ورکړه. او تنبیه ئی وفرمایله چه که دوی قرآن کریم ونه منی ـ نو د هغه مطلب دا دی چه دوی د خپلو کتابونو له منلو څخه هم منکران شوی دی.

﴿ لَأَكَلُوا ﴾ الآیة ـ نو خامخا خوړلی به ئی میوی له پاسه د سرونو خپلو او غلی له لاندی د پښو خپلو د ځمکی څخه یعنی (روزی به ئی پری پراخه کړی وه او له هره طرفه به ئی فیضان پری کاوه) او دوی به د ځمکی او د آسمان له ګردو (تولو) برکاتو څنی متمتع کیدل او د ذلت او بدحالی او د معیشت د تنګوالی هغه سزا به تری پورته کیده چه دوی ته د عصیان او تمرد په عوض کښی ورکړی شوی ده.

مِّنْهُمْ أُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ ۖ

ځینی له دوی نه یو امت دی مقتصد (منصف او میانه تلونکی،)

**تفسیر:** دا هغه معدود افراد دی چه دوی د فطری سعادت او د اعتدال د لاری د اختیارولو له امله (وجی) د حق غږ ته لبیک ویلی دی لکه (عبد الله بن سلام) او د حبشی باچا «نجاشی» او نورو رضی الله عنهم.

---

وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ سَآءَ مَا يَعْمَلُونَ ﴿٦٦﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغْ مَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ۖ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُۥ ۚ وَٱللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ ٱلنَّاسِ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٦٧﴾

---

او ډیر له دوی څخه بد دی هغه کار چه کوی ئی دوی. ای رسوله (زما) ورسوه (ته ټول) هغه شی چه نازل کړی شوی دی تاته له (جانبه د) ربه ستا او که دی ونه رساوه (ټول) نو نه دی رسولی تا هیڅ پیغام د ده او الله ساتی تا له (شره د) خلقو بیشکه الله نه ښیی (سمه لاره) قوم کافرانو ته.

---

**تفسیر:** په پخوانیو آیتونو کښی د اهل کتابو د شرارت، کفر او د بدو چارو ذکر او د تورات، انجیل، قرآن او نورو گردو (ټولو) آسمانی کتابونو د احکامو د تعمیل ترغیب ورکړی شوی ؤ وروسته له دی نه په ﴿ قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لَسْتُمْ عَلَىٰ شَىْءٍ ﴾ سره د کتابیانو په ټولنه کښی اعلان کوی چه بی له دی «اقامت» څخه ستاسی مذهبی ژوندون صفر او بیخی هیڅ او لاشی دی په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغْ مَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ﴾ الآیة ـ کښی زمونږ رسول الله مبارک د هم دغه صاف او ښکاره اعلان له پاره تیار کړی شوی دی، یعنی هر هغه شی چه الله تعالیٰ تاسی ته درلیږی خصوصاً داسی فیصله کوونکی اعلانات تاسی بی له ویری، خطر او تامل څخه ورسوئ! که په فرض محال د یوه شی په تبلیغ کښی له تاسی څخنی قصور وشو نو په حیث د رسول الله د رسالت او پیغام رسولو کوم لوی منصب چه تاسی ته سپارل شوی دی. داسی گڼه کیږی چه تاسی د هغه حق هیڅ نه دی اداء کړی بی له شبهی د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په حق کښی د تبلیغ د فریضی په انجامولو کښی زیات له زیاته د قائم پاتی کیدلو له پاره له دی نه زیات بل کوم مؤثر عنوان نشی پیدا کیدی.

زمونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم په شلو یا درویشتو کلونو کښی په هغه بی مثله اولوالعزمی او قربانی او پرله پسی زحمت او کوښښ ، صبر او استقلال، جداوجهد سره چه د رسالت فرض او د تبلیغ وظیفه اداء کړی ده. هغه د دی واضح دلیل دی، چه دوی په دنیا کښی له هر شی څخه زیات د خپل منصبی فرض (رسالت او ابلاغ) د اهمیت احساس کاوه. د رسول کریم صلی الله علیه وسلم د دی قوی احساس او تبلیغی جهاد په ملحوظ د تبلیغ په وظیفه کښی د مزید استحکام

او تثبیت د تاکید په موقع کښې ډیر مؤثر عنوان هم دا کیدی شي.
زمونږ رسول کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم ته د ﴿ يَاأَيُّهَا الرَّسُولُ ﴾ په خطاب سره یواځې هم دغه هومره فرمایلی شوی دی چه په فرض محال سره که په تبلیغ کښې لږ څه قصور وشو نو وپوهیږه چه ته د خپل منصبی فرضو په ادا کولو کښې کامیاب نه ئې - او ظاهر دی چه ستا زیاتره کوششونه او د قربانیو یوازنی مقصد هم دا ؤ چه تا د الله تعالیٰ په مخ کښې د رسالت د انجامولو په فریضه کښې ډیر اعلیٰ برې حاصل کړی دی، لهٰذا دا په هیڅ قسم سره ممکن نه ده چه ته په هیڅ یو پیغام کښې لږ څه هم کوتاهی وکړی.
عموماً دا په تجربې رسیدلی ده چه انسان د تبلیغ د فریضې په اداء کولو کښې د څو وجوهو له امله (وجې) مقصر پاتې کیږی یا خو له ده سره د خپلې فریضې د اهمیت کافی احساس او مینه نه وی - یا د خلقو له عمومی مخالفت څخه د شدید نقصان رسیدلو - یا کم له کم د ځینو فوائدو د فوت خوف وی - یا د مخاطبینو د عمومی طغیان او تمرد له امله (وجې) (لکه چه په پخوانیو او وروستنیو آیتونو کښې د کتابیانو په نسبت ښوولی شوی دی) د تبلیغ له مثمر او منتج کیدلو ځنې مایوسی وی - د (۱) وجه ځواب په ﴿ يَاأَيُّهَا الرَّسُولُ ﴾ تر ﴿ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ ﴾ پورې - او د (۲) په ﴿ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ ﴾ او د (۳) په ﴿ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ ﴾ سره ورکړی شوی دی یعنی ته خپل فرض اداء کوه! الله تعالیٰ ستا د ځان او عزت او پت ساتونکی دی. الله تعالیٰ به د ګردی (تولی) ځمکې د مخ دښمنانو ته هم موقع ور نه کړی چه ستا په مقابل کښې د برې لاره ومومی - باقی هدایت او ضلالت د الله تعالیٰ په لاس کښې دی، داسې قوم چه فقط کفر او انکار ته ئې خپلې ملاوې تړلی وی که په سمه لاره رانشی نو ته غم مه کوه! او مه مأیوسه کیږه! او خپله دغه مقدسه فریضه مه پریږده! زمونږ نبی کریم صلی الله علیه وسلم د دی ربانی هدایاتو او آسمانی اصولو سره سم ګرد (تول) امت ته د هر وړوکی او لوی شی تبلیغ وفرمایه - او د انسانی نوعی خواصو او عوامو ته هره هغه خبره چه هرې طبقې ته لائقه، او د هر چا له استعداده سره موافقه وی، بې له تزئیده او تنقیصه او بې له خوفه او خطره وروښوده، او وئې رسوله - او د الله تعالیٰ حجت ئې پر بندګانو تمام کړ او له وفاته څخه تقریباً دوه نیمی یا درې میاشتې پخوا د «حجة الوداع» په موقع کښې چه هلته له (۴۰،۰۰۰) تنو څخه زیات د اسلام خادمانو او د تبلیغ محبانو اجتماع درلوده (لرله) دوی «**علی رؤس الاشهاد**» اعلان وفرمایه چه ای الله ! ته شاهد اوسه! چه ما (ستا امانت) ورساوه!»

---

**قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَسْتُمْ عَلَىٰ شَيْءٍ حَتَّىٰ تُقِيمُوا التَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيلَ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْكُمْ مِنْ رَبِّكُمْ ۗ**

---

ووایه ته (ای محمده) چه ای کتابیانو ، نه یئ تاسی پر هیڅ شی(له حقه

دینه) تر هغه پورې چه قائم کړئ تاسی (ودرو‌ئ په عمل سره ګرد (تول) احکام د) «تورات» او «انجیل» او هغه (کتاب) چه نازل کړی شوی دی تاسو ته له (لوری د) ربه ستاسی

**تفسیر:** یعنی قرآن کریم د ګردو (تولو) سماوی کتابونو خاتم او مهیمن دی. په ٦ جزء د المآئده په (۳۸) آیت ۷ رکوع کښې د دی آیت تفسیر تیر شوی دی

وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم مَّا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَكُفْرًا ۖ فَلَا تَأْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ ﴿٦٨﴾

او خامخا زیاتوی هرومرو (خامخا) ډیرو ته له دوی څخه هغه شی چه نازل کړی (لیږلی) شوی دی تاته له جانبه د رب ستا (یعنی قرآن زیاتوی دوی ته) سرکشی او کفر نو مه خپه کیږه (او افسوس مه کوه) پر قوم کافرانو

**تفسیر:** یعنی د دی غم او افسوس له کبله (وجی) مه خپه کیږئ! خپل فرض په امن او اطمینان سره ادا کوئ!

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَادُوا وَالصَّابِئُونَ وَالنَّصَارَىٰ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٩﴾

بیشکه هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی (تش په ژبو) او هغه کسان چه یهودیان دی او (فرقه د) ترسایانو او نصرانیانو (د دوی حکم هم داسی دی) هر څوک چه ایمان راوړی په الله او په ورځ آخره (چه ورځ د قیامت ده د زړه په صدق سره) او عمل وکړی نیک (عمل) نو نشته (هیڅ قسم) ویره پر دوی باندی او نه به دوی (هیڅکله) خپه کیږی (د اجر په نقصان سره)

**تفسیر:** یعنی هغه قوم چه مسلمانان بلل کیږی یا یهود یا نصارىٰ یا صابی یا نور دی (دلته

تمثيلاً د څو مذاهبو ذکر کړی شوی دی) هيڅ يو سړی د دی نومونو يا نسلونو يا رنګونو يا کارونو يا وطنونو يا د نورو احوالو او خصائصو په لحاظ حقيقی فلاح او دائمی بری نشی حاصلولی. د بریالیتوب (کامیاب) او مأمون او مصون پاتی کیدلو له پاره یواځی یو شی شته چه ایمان او صالح عمل دی. هر هغه قوم چه د پاک خدایٔ د تقرب یا د بری مدعی وی، هغه دی خپل ځان پر دغه محک معلوم کړی که دوی کره او سره ووتل ـ نو بی خوفه او خطره بریالی (کامیاب) او په مراد رسیدلی دی که نه هر وخت دی خپل ځانونه د الله تعالیٰ تر قهر او غضب لاندی وګنی. په پخوانیو آیتونو کښی خاص کتابیانو ته تبلیغ ؤ، په دی آیت کښی د ټولو اقوامو او مللو په نسبت بی له لحاظه او رعایته داسی عجیب او غریب، معقول او منصفانه قانون بیان شوی دی چه وروسته له دی به هیڅ یوه سلیم الفطرت انسان ته د اسلام په صداقت او جامعیت کښی هیڅ یوه شبهه پاتی نشی، یو سړی تر هغه پوری چه پر الله تعالیٰ (یعنی د رب العالمین جل جلاله پر وجود، وحدانیت ، کمالیه صفاتو، د قدرت په دلائلو، ګردو (ټولو) احکامو او قوانینو په ټولو رسولانو او انبیاؤ (علیهم السلام) او د جزاء په ورځ) باندی ایمان رانه وړی او نیکی اختیار نه کړی آیا سلیم عقل دا قبلولی شی چه هغه به دائمی نعیم او د الله تعالیٰ رضا او ابدی سرور او تکریم ومومی؟. د «ایمان بالله» لاندی دا ګرد (ټول) شیان داخل دی.

فرض کړیٔ ! یو سړی د نبوت د روښانو دلائلو د موجودیت سره سره د رسول صلی الله علیه وسلم توهین کوی (او دیٔ د نبوت په دعوی کښی دروغجن ګڼی، چه هم دا د هغه توهین دی) نو آیا د یوه حکومت د سفیر توهین او د سفارت د صافو او صریحو اسنادو تکذیب ، د هغه حکومت تکذیب او توهین نه دی؟ هم داسی وپوهیږیٔ هر هغه څوک چه د یوه رښتین رسول علیه السلام تکذیب کوی او هغه نه منی دغه فی الحقیقت د الله تعالیٰ د هغو صافو او صریحو آثارو او دلائلو تکذیب دی چه د ده د نبوت د تصدیق له پاره ئی نازل کړی دی ﴿ فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَٰكِنَّ الظَّالِمِينَ بِآيَاتِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴾ ۷جزء د الانعام (۳۳) آیت (٤) رکوع. آیا د الله تعالیٰ د صریحو آیتونو او ښکاره دلائلو له دروغ ګڼلو څخه وروسته د «ایمان بالله» دعوی پاتی کیدی شی؟ د هغو تفصیلاتو په لوری چه قرآن کریم د «ایمان بالله» او عمل صالح په اجمالی عنوان سره دلته اشاره فرمایلی ده په نورو مواضعو کښی هغه په ښه شرح او بسط مذکور دی.

زما په نزد زیات صحیح او قوی قول هم دا دی چه «صابئین» په عراق کښی یوه فرقه وه چه د هغو مذهبی اصول عموماً د اشراقی حکماؤ او طبیعی فلاسفه ؤ له اصولو څخه ماخوذ ؤ. دی خلقو د روحانیاتو په نسبت زیات غلو او ډیره مبالغه بلکه د هغو عبادت به ئی کاوه. د دوی خیال داسی ؤ چه یواځی د مجردو ارواحو او تش د فلکی مدبراتو او نورو په استعانت او استعداد موږ تر «رب الاربابه» یعنی لوی معبود پوری رسیدی شو. نو ځکه موږ ته ښائی چه په شاقه ریاضتونو او د شهواتو په کسر په روح کښی تجرد او صفائی پیدا کړو، او له روحانی عالم سره خپله علاقه ټینګه کړو بیا د دوی په خوشالی او لاس نیولو تر خدای پوری رسیدی شو د انبیاؤ د اتباع ضرورت نشته د کواکبو د مدبره ارواحو او هم داسی د نورو روحانیاتو په خوشالولو کښی به ئی

له خپله ځانه د هغوی هیکلونه (تصویرونه) جوړول ـ او د دوی په ارواحو به ئی لمونځ روژه، قربانی او نور شیان کول. خلاصه دا چه د «حنفاؤ» په مقابل کښې د «صابئینو» جماعت ؤ ـ چه د هغه ډیره لویه حمله پر نبوت او د ده پر لوازمو او خواصو باندی وه، د حضرت حنیف ابراهیم د بعثت په وخت کښې (د نمرود) قوم صابی‌العقیده ؤ چه د دوی په تردید او ابطال کښې د الله تعالیٰ خلیل د فداکاری ـ او ایثار اظهار وکړ.

لَقَدْ أَخَذْنَا مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَآءِيلَ

خامخا په تحقیق اخیستی ده مونږه وعده ټینګه له بنی اسرآئیلو (اولادی د یعقوب) څخه

**تفسیر:** په تیر آیت کښې هغه معیار چه د قبول عندالله له پاره بیان شوی ؤ ـ یعنی ایمان او صالح عمل، دلته دا راښوول کیږی چه یهود پر دی حکم او معیار تر کومه حده پوری راتلی شی؟

وَأَرْسَلْنَآ إِلَيْهِمْ رُسُلًا ۖ كُلَّمَا جَآءَهُمْ رَسُولٌۢ بِمَا لَا تَهْوَىٰٓ أَنفُسُهُمْ فَرِيقًا كَذَّبُوا۟ وَفَرِيقًا يَقْتُلُونَ ﴿٧٠﴾

او لیږلی وو مونږ دغو (بنی اسرأئیلو) ته رسولان (چه وریاد کړی دغه عهد او وربیان کړی شرعی احکام) هر کله چه به راغی دوی ته کوم رسول په هغه (شرعی حکم) سره چه نه خوښاوه (هغه شرعی حکم) نفسونو د دوی ځینی رسولان (لکه موسیٰ او عیسیٰ) ئی دروغجن وګڼل او ځینی رسولان (لکه یحییٰ، زکریا) به ئی وژل

**تفسیر:** د بنده د وفاداری امتحان په دی کښې دی چه له هری هغی خبری څخه تیر شی چه د ده د مولیٰ او مالک او لوی څښتن (خاوند) **جل وعلا شانه** رضا پکښې نه وی. او خپله رایه او مرضی د خپل پاک الله تابع وګرځوی، که نه د داسی شیانو منل چه د بنده د مرضی او غوښتنی سره سم وی خو څه کمال نه دی.

وَحَسِبُوٓا۟ أَلَّا تَكُونَ فِتْنَةٌ فَعَمُوا۟ وَصَمُّوا۟ ثُمَّ تَابَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ ثُمَّ عَمُوا۟ وَصَمُّوا۟ كَثِيرٌ مِّنْهُمْ

وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ﴿٧١﴾

او ګومان کړی ۋ دغو (بنی اسرائیلو) د دی چه نه به وی (او نه به رسیږی دوی ته) هیڅ فتنه (خرابی د انبیاؤ په دغه تکذیب او قتل کښی) پس ړانده شول (د حقی لاری له لیدلو څخه) او کانه شول (د حق له اوریدلو څخه) بیا رجوع (په رحمت سره) وکړه الله په دوی باندی بیا (دوهم ځلی) ړانده او کانه شول(د حق له لیدلو او اوریدلو څخه) ډیر له دوی څخنی (په انکار سره له محمده) او الله ښه لیدونکی (عالم) دی په هغو کارونو (هم) چه کوی (یی) دوی.

**تفسیر:** یعنی بنی اسرائیلو پوخ عهد او پیمان مات او له الله تعالیٰ سره ئی بدعهدی او غداری وکړه. د ده رسولان ئی دروغجنان کړل، او ځینی ئی ووژل دا خو د دوی د «ایمان بالله او صالح عمل» حال ۋ، د «ایمان بالیوم الاخر» اندازه ئی له دی نه قیاس کړئ! چه د دومره شدیدو مظالمو او یاغیانه جرائمو له ارتکاب سره سره بیخی هوسا (خوشاله) او بیغمه ناست دی، ګواکی دوی په دی فکر کښی هیڅ نه دی چه دوی د دغو خپلو بدو چارو د سزاؤ ګالونکی (برداشت کونکی) دی، یا د دی ظلم او بغاوت خرابی نتیجی به کله د دوی مخی ته راتلونکی وی په هم داسی خیالاتو او چرتونو کښی د الله تعالیٰ له دلائلو او کلام څخه بیخی ړانده او کانه شول، او داسی کارونه ئی وکړل چه د کولو نه ۋ تر دی چه ځینی انبیاء علیهم السلام ئی قتل او ځینی ئی بندیان کړل آخر الله تعالیٰ پر دوی «بخت نصر» مسلط کړ بیا د یوی اوږدی مودی څخه وروسته د «پارس» ځینو باچاهانو دوی د «بخت نصر» د ذلت او رسوایی له قیده خلاص کړل او له (بابل) څخه ئی د(بیت المقدس) په لوری بیرته ولیږل، په دی وخت کښی دی خلقو توبه وویسته او د خپل حال د اصلاح په لوری متوجه شول او الله تعالیٰ هم د دوی توبه قبوله کړه لیکن لږ څه موده وروسته بیا دوی په خپلو همغه شرارتونو او بدو چارو لاس پوری کړ او بیخی ړانده او کانه شول او د حضرت زکریا او یحییٰ علیهما السلام په قتل ئی جرائت وکړ او د حضرت عیسیٰ علیه السلام قتل ته هم تیار شول.

﴿وَاللّٰهُ بَصِيْرٌ﴾ الآیة - او الله ښه لیدونکی عالم دی په هغو شیزونو چه کوی ئی دوی یعنی که څه هم دوی د الله تعالیٰ له غضب او قهر څخه بی پروا او ړانده شوی دی، لیکن الله تعالیٰ د دوی تول حرکات درګرده (تول) ګوری لکه چه د هغو حرکاتو سزا دوی ته اوس د محمدی امت په لاسونو ورکوی، (او اخروی جزا هم دوی ته تیاروی).

لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ ۭ وَقَالَ الْمَسِيْحُ يٰبَنِيْٓ اِسْرَاۗءِيْلَ

اعْبُدُوا اللّٰهَ رَبِّيْ وَرَبَّكُمْ ۭ اِنَّهٗ مَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَاْوٰىهُ النَّارُ ۭ وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ ﴿٧٢﴾

خامخا په تحقيق كافران شوى دى هغه كسان چه وائى دوى (له ډيره جهله) چه بيشكه الله هم دغه مسيح زوى د مريمى دى او ويل به مسيح چه اى بنى اسرآئيلو، (اولادى د يعقوبه!) عبادت كوئ تاسى د (يوائحى هغه) الله چه رب زما او رب ستاسى دى، بيشكه شان دا دى هر چا چه شريك ونيو له الله سره (په عبادت كښى بل شى) نو په تحقيق حرام كړى دى الله په دغه (مشرك) باندى جنت او ځاى د ده اور (د دوزخ دى) او نشته ظالمانو ته هيڅ مدد كوونكى (چه عذاب ترى دفعه كړى)

**تفسير:** له دى ځايه د نصرانيانو د «ايمان بالله» كيفيت ښودل كيږى چه تر كومه ځايه پورى د حقانيت پر معيار منطبق كيږى د دوى د ايمان بالله حال دا دى چه د عقل په خلاف او له سليم فطرت څخه چپ (مخالف) او د حضرت مسيح عليه السلام له تصريحاتو څخنى مخالف د مسيح عليه السلام د بى‌بى مريمى له زوى څخنى په خپله خداى جوړوى، «يو درى او درى يو» ګڼل كړى وړى خبرى دى په حقيقت كښى ګرد (تول) زور او قوت يوائحى د حضرت مسيح عليه السلام د الوهيت په اثبات كښى لګوى حال دا چه په خپله حضرت مسيح عليه السلام د الله تعالىٰ په ربوبيت او لكه نور انسانان په خپل مربوبيت بندګى باندى ظاهر باهر اقرار او اعتراف كوى. او د هغه شرك خرابى او ورانى ئى په ډير زور او شور سره بيان كړى دى، چه په هغه كښى د ده امت مبتلا كيدونكى ؤ- بيا هم دا ړانده عبرت نه آخلى.

لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ ثَالِثُ ثَلٰثَةٍ ۘ

خامخا په تحقيق كافران شوى دى هغه كسان چه وائى دوى چه بيشكه الله دريم له دريو (معبودانو) څخه دى،

**تفسير:** يعنى حضرت مسيح عليه السلام او روح القدس عليه السلام او الله جل جلاله يا مسيح عليه السلام او مريم رضى الله تعالىٰ عنها او الله جل جلاله درى واړه خدايان دى (العياذ بالله) په دوى كښى يوه برخه د الله شوه - بيا هغه درى واړه يو او هغه يو درى دى.

د عامو عیسویانو عقیده هم دا ده او دغه د عقل او بداهت نه خلاف عقیده په عجیبو تاو کرو او پیچلو عباراتو سره اداء کوی او کله چه په دغه مفهوم څوک نه پوهیږی، نو هغه یو ماوراء العقل حقیقت بولی. رښتیاده. «**لن یصلح العطار ما افسده الدهر**»

د بدبختو شړی جوړه وی له وړیو تکو تورو

نه سپینیږی د زمزمو او کوثرو په اوبو هم

وَمَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّآ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ؕ وَاِنْ لَّمْ يَنْتَهُوْا عَمَّا يَقُوْلُوْنَ لَيَمَسَّنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٧٣﴾ اَفَلَا يَتُوْبُوْنَ اِلَى اللّٰهِ وَيَسْتَغْفِرُوْنَهٗ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٧٤﴾

حال دا چه نشته (بل) هیڅ لائق د عبادت مګر (خو شته) معبود یو (چه الله دی)، او که وانه اوښتل دوی (له شرکه توحید ته او) له هغی خبری چه وائی نو خامخا وبه رسیږی هرومرو (خامخا) هغو کسانو ته چه کافران (پاتی) شوی دی له دوی څخنی عذاب دردناک آیا نو توبه نه کوی دوی الله ته (د درو خدایانو له دی ویلو) او (نه) غواړی ښښنه له ده څخه (له دی بدی وینا یعنی توبه دی وباسی او معافی دی وغواړی) او الله ښه مغفرت کوونکی (د خطیاتو) ډیر مهربان دی (د اجر او ثواب په انعام سره).

**تفسیر:** دا د هغه «غفور رحیم» شان دی چه داسی یاغی او ګستاخ مجرم هم کله چه په زړه کښی وشرمیږی، او د حقیقی اصلاح په عزم او ارادی حاضر شی نو په یوه شیبه (ساعت) کښی د ده د ګرد (تول) عمر جرائم ورمعافوی.

مَا الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ اِلَّا رَسُوْلٌ ۚ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ ؕ وَاُمُّهٗ صِدِّيْقَةٌ ؕ كَانَا يَاْكُلٰنِ الطَّعَامَ ؕ اُنْظُرْ كَيْفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ الْاٰيٰتِ ثُمَّ انْظُرْ اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ﴿٧٥﴾

نه دی مسیح زوی د مریمی مگر یو رسول دی (او خدای نه دی اگر که پلار نه لری او مړی ژوندی کوی) په تحقیق تیر شوی دی پخوا له ده څخه (نور دیر) رسولان او مور د ده صدیقه (دیره رښتینی) وه وو دوی دواړه (مور او زوی) چه خوړه به ئی طعام (په شان د نورو مخلوقاتو نو څرنگه به خدای شي؟) وگوره څرنگه بیانوو مونږ دوی ته دلائل (د توحید) بیا وگوره (دوی ته) چه څرنگه چپ کاوه شی دوی (له حقه)

**تفسیر:** یعنی له هغه مقدس او معصوم جماعت څخه دغه مسیح علیه السلام هم یو فرد دی نو دی خدای گرځول ستاسی سفاهت دی. د جمهور امت تحقیق هم دا دی چه په ښځو کښی نبوت نه دی راغلی ـ او دا لوی او لوړ منصب نارینه ؤ لره مخصوص دی.

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ إِلَّا رِجَالٗا نُّوحِيٓ إِلَيۡهِم مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡقُرَىٰٓۗ﴾ (۱۳ جزء د یوسف د سورت ۱۰۹ آیت ۱۲ رکوع) بتول حضرت بی‌بی مریم رضی الله تعالیٰ عنها هم یوه ولیه بی بی وه، نبی نه وه. له غور کولو څخه وروسته معلومیدی شی، هر هغه څوک چه خوړلو او څښلو ته اړ (مجبور) وی، نو دی د دنیا هر شی ته محتاج وی، ځمکه، هوا، اوبه، لمر حیوانات حتی له بولو او غائطو او نورو ضروریاتو څخه هم نشی مستغنی کیدلی، د یوی نمری. خوړو ته وگورئ کله چه گیدی ته ورسیږی تر هضمیدلو پوری خیال وکړئ چه بالواسطه او بلاواسطه څه څه شیانو ته ضرورت پیښیږی؟ بیا له خوړلو څخه هغه اثرات او نتائج چه پیدا کیږی ، د هغو سلسله تر کومو ځایو پوری رسیږی؟ دا د احتیاج او افتقار اوږده سلسله تر نظر لاندی ونیسئ نو مونږ د مسیح علیه السلام او مریمی رضی الله تعالیٰ عنها د الوهیت ابطال د استدلال په شکل داسی بیانولی شو. چه مسیح علیه السلام او مریمی رضی الله تعالیٰ عنها د خوړلو او څښلو له ضروریاتو څخه مستغنی نه وو چه په مشاهده او تواتر سره ثابت دی او هر هغه چه له خوړلو او څښلو مستغنی نه وو نو دی د دنیا له هیڅ یو شی څخه نشی مستغنی کیدی. نو بیا هم تاسی ووایئ هغه ذات چه د نورو انسانانو په شان د خپل ژوندون او بقاء له پاره له عالم اسباب څخه مستغنی نه وی، . نو دی څرنگه خدای کیدی شی؟ دا داسی قوی او واضح دلیل دی چه عالم او جاهل یو شان پری پوهیدی شی. یعنی خوړل او څښل له الوهیت سره منافی دی اگر که نه خوړل هم د الوهیت دلیل نه دی که نه گردی (تولی) پرښتی به خدای وگرځی (معاذ الله).

قُلۡ أَتَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَمۡلِكُ لَكُمۡ ضَرّٗا وَلَا نَفۡعٗاۚ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ٧٦

ووایه (ای محمده ! دوی ته چه) آیا عبادت کوئ تاسی بی له الله څخه د هغه

شي چه مالک نه دی دپاره ستاسی د (دفع کولو د) ضرر او نه د (رسولو د) نفع او الله هم دی دی ښه اوریدونکی (د ګردو (تولو) اقوالو) ښه عالم (په پټو احوالو)

---

**تفسیر:** یعنی کله چه مسیح علیه السلام ته ئی خدای ووایه نو لازم دی چه معبود هم ورته ووائی مګر معبود ګرځیدل یوازی د هغه له ذات سره مختص دی چه د هر قسم نفع او ضرر مالک او پوره اختیار لرونکی وی، ځکه چه عبادت د انتهائی تذلل نوم، او انتهائی تذلل د هغه ذات په مقابل کښی اختیار کولی شی چه د انتهائی عزت او غلبی لرونکی وی په هر آن کښی د ګردو (تولو) خبرو آوریدونکی او د تولو پر احوالو پوهیدونکی وی، په دی سره د تثلیث د شرکیی عقیدی او د ګردو (تولو) مشرکینو د نورو باطله عقائدو تردید هم وشو.

---

قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لَا تَغْلُوا۟ فِى دِينِكُمْ غَيْرَ ٱلْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعُوٓا۟ أَهْوَآءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوا۟ مِن قَبْلُ وَأَضَلُّوا۟ كَثِيرًا وَضَلُّوا۟ عَن سَوَآءِ ٱلسَّبِيلِ ﴿٧٧﴾

---

ووایه (ای محمده !) چه ای اهل د کتابو مه کوئ تجاوز (له حده او مه کوئ مبالغه) په (خبره) د دین خپل کښی په ناحقه سره او مه کوئ متابعت د چتی (بیکاره) خواهشونو د (هغه) قوم چه (له ډیره جهله) په تحقیق ګمراه شوی دی په خوا (له دی نه) او ګمراهان کړی دی دوی ډیر(خلق) او ګمراه شوی دی دوی له سمی صافی لاری.

---

**تفسیر:** د عقیدی تجاوز او مبالغه دا ده چه یو بشری مولود خدای وګرځوی. او په عمل کښی مبالغه دا ده چه هغه ته «رهبانية» وائی ﴿وَرَهْبَانِيَّةً ٱبْتَدَعُوهَا مَا كَتَبْنَٰهَا عَلَيْهِمْ﴾ (۲۷ جزء د الحدید ۲۷ آیت ٤ رکوع) د یهودانو له هغو قبائحو څخه چه بیان کړل شول ظاهریږی چه په دنیاپرستی کښی د ډوبیدلو له سببه د دوی په نزد کښی د دین او دیندارانو هیڅ څه عظمت او وقعت نه ؤ۔ تر دی چه د انبیاؤ علیهم السلام اهانت او قتل او نور د دوی خاص شعائر وو پر خلاف د دوی نصرانیانو د انبیاؤ علیهم السلام په تعظیم کښی دومره غلو وکړه ، چه له دوی ځنی ځینو ته ئی د الله زوی هم وویل ۔ او دنیا ئی پریښوده او «رهبانیت» ئی اختیار کړ ﴿وَلَا تَتَّبِعُوٓا۟ أَهْوَآءَ قَوْمٍ﴾ الآیة ۔ او مه کوئ تاسی متابعت د چتی (بیکاره) خواهشونو د قوم) یعنی په اصلی «انجیل» او نورو حقو آسمانی کتابونو کښی د دی شرکی عقیدی هیچیری څه اثر او پته

نه وه لګيدلى، وروسته بيا د «يونانى بت پرستانو په تقليد هغه د (پولوس) له خوا ايجاد شوه ـ چه پر همغى غلطى لارى نور ګرد (تول) سره رهى (روان) او تينګ پاتى شول» له داسى رانده تقليد ځخه د نجات هيله (اميد) او توقع لرل، هيڅ يو عاقل لره نه ده په کار.

لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنۢ بَنِىٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ عَلَىٰ لِسَانِ دَاوُۥدَ وَعِيسَى ٱبۡنِ مَرۡيَمَۚ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا۟ وَّكَانُوا۟ يَعۡتَدُونَ ﴿٧٨﴾

لعنت کړى شوى دى په هغو کسانو چه کافران شوى دى له بنى اسرائيلو ځخه په ژبه د داؤد سره او (په ژبه د) عيسىٰ زوى د مريمى، دا(لعنت پر دوى) په سبب د دى ؤ چه نافرمانى ئى کوله (له احکامو د الله) او وو دوى چه تيريدل به (له حدودو د الله)

**تفسير:** هسى خو په ګردو (تولو) آسمانى کتابونو کښى پر کافرانو لعنت ويل شوى دى ليکن د بنى اسرآئيلو پر کافرانو ځنګه چه دوى په عصيان او تمرد کښى په داسى شان له حده تير شول ـ چه نه مجرم په هيڅ ډول (طريقه) سره د جرائمو له ارتکابه بيرته ګرځيده او نه غير مجرم د مجرم مخه نيوله بلکه ګرد (تول) سره د شودو او شکرو په شان شوى وو او بى تکلفه يو له بل سره په قول او عمل، په خوراک او څښاک په ناسته او ولاړه او نورو کښى دوستان او ملګرى شوى وو او د منکراتو او فواحشو پر مرتکبينو باندى د هيڅ يو قسم انقباض، تکدر، او خفګان اظهار هم نه کيده ـ نو دلته الله تعالىٰ د حضرت داؤد او مسيح عليهما السلام په ژبه پر دوى لعنت ووايه همغسى چه په ګناهونو کښى د دوى جسارت له حده او اندازى تيرى او تجاوز کړى ؤ نو دا لعنت هم د داسى جليل القدرو انبياؤ په توسط پر دوى وويل شو. چه په فوق العاده ډول (طريقه) سره تباه کوونکى ثابت شو. غالباً د هم دى لعنت په نتيجه کښى له دوى ځنى ډير افراد ظاهراً او باطناً د بيزوګانو او بدو ځناورو په شکل مسخ او بدل کړل شول. د باطنى مسخى دائره خو دومره وسيعه شوه چه له دوى ځنى ډيرو کسانو نن هم له هغو مسلمانانو ځنى مخ آړولى دى چه د الله تعالىٰ ګرد (تول) سماوى کتابونه منى، او د تولو رسولانو او انبياؤ عليهم السلام تصديق کوى، او د مکى معظمى له هغو مشرکانو سره ئى خپله يارانه او خپلوى ترلى ده چه خالص بت پرستان، او له نبوت او نورو الهٰى احکامو ځخه بيخى ناپوه او جاهلان دى. که کتابيانو پر الله جل جلاله ، پر نبى صلى الله عليه وسلم او پر الهٰى وحى باندى واقعى اعتقاد درلود (لرلو)، نو دابه چيرى ممکنه وه چه د داسى يو قوم په ضد او مخالفت کښى چه ګرد (تول) آسمانى او حقانى شيان په يو مکمل ډول (طريقه) سره منى، له بت پرستانو سره ـ اتحاد، ارتباط (ګډون او ترون) وکړى ـ دا بى‌حسى او بدذوقى ـ او له الله پرستانو ځخه تښتيدل

ـ او له بت پرستانو سره دوستي كول، د هغه لعنت او ترتني اثر دی چه دوی ئی د الله تعالیٰ له لوی رحمت نه ډیر لری غورځولی دی، په پخوانیو آیاتونو کښې ئی د دوی د تیرو کفریاتو او جرائمو بیان وکړ، او د «غلو فی الدین» او د ګمراهانو له ړندو تقلیدونو ئی ممانعت فرمایلی ؤ تر څو که اوس هم دوی له خپلو دی ملعونو حرکاتو څخه لاس واخلی، او توبه وباسی ـ او د حق او صداقت پر لاره د سم تللو کوښښ وکړی نو دوی ته به ډیر ښه وی، په دی رکوع کښې ئی د دوی له موجوده حالت څخه تنبیه ورکړه او دا ئی راوښوده، چه د هغه آثار چه د داؤد او مسیح علیهما السلام په ژبه پر دوی کړی شوی ؤ تر نن پوری موجود دی ـ له اهل الله او عارفینو څخه نفرت او عداوت او له جاهلو مشرکانو سره محبت او اخوت دا د دی خبری ښکاره دلیل دی چه د هغوی زړونه د الله تعالیٰ د لعنت له اثره بالکل ممسوخ شوی دی. که اوس هم دوی د خپلو حالاتو په اصلاح او سنبالولو پسی ونه ګرځی او د حق په لوری رجوع ونه کړی نو د داسی یو سخت لعنت مورد به وګرځی چه هغه به الله تعالیٰ د سیدالانبیاء خاتم الرسل صلی الله علیه وسلم په ژبه دوی ته ورولیږی.

---

## كَانُوا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُّنكَرٍ فَعَلُوهُ

---

وو دوی چه یو بل به ئی سره نه منع کول له هغه بد عمله چه کاوه به دوی هغه ،

---

**تفسیر:** د «لا یتناهون» دوه معنی کیدی شی (۱) نه ستانه (واپس) کیدل «کمافی روح المعانی» (۲) یو بل به ئی ستناوه (واپس کوو) (کماهوالمشهور) کله چه بدی په یوه قوم کښې منتشره او خوره شی او په هغوی کښې کوم یو منع کوونکی او ستنوونکی هم نه وی نو د عمومی عذاب اندیښنه شته.

---

## لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ﴿٧٩﴾ تَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ الَّذِينَ كَفَرُوا

---

(قسم دی) خامخا بد ؤ هغه کار چه وو دوی چه کاوه به ئی ، ته به وینی ډیر له دوی چه دوستی به کوی له هغو کسانو سره چه کافران شوی دی.

---

**تفسیر:** له کافرانو څخنی مراد مشرکین دی او د دی آیتونو مصداق د مدینی منوری یهودان وو چه دوی د مکی معظمی له مشرکانو سره جوړه کړی او له مسلمانانو سره ئی جنګ کړی وه.

لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ اَنْفُسُهُمْ اَنْ سَخِطَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَ فِي الْعَذَابِ هُمْ خٰلِدُوْنَ ﴿٨٠﴾

(بیا قسم دی چه) خامخا بد ؤ هغه شي چه پخوا لیږلي ؤ دوی ته ځانونو د دوی (چه هغه شي موجب ؤ) د دی چه په غضب شو الله پر دوی او په عذاب کښې دوی به تل وی

**تفسیر:** یعنی د اعمالو هغه ذخیره چه پخوا له مرګه ئی آخرت ته لیږلی داسی ده چه دوی د الٰهی غضب او د ابدی عذاب مستحق ګرځوی.

وَلَوْ كَانُوْا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالنَّبِيِّ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوْهُمْ اَوْلِيَآءَ

او که وی دوی چه ایمان ئی راوړی وی (د زړه نه) پر الله او نبی (محمد یا موسیٰ) او په هغه کتاب چه نازل شوی دی ده ته نو نه به وو نیولی دوی دا مشرکان دوستان

**تفسیر:** له «النبی» څخه ځینی مفسرین حضرت موسیٰ علیه السلام او ځینی محمد رسول الله صلی الله علیه وآله وصحبه وسلم مرادوی. مطلب ئی داسی شو که یهودانو په رښتیا سره د حضرت موسیٰ علیه السلام په صداقت او تعلیماتو یقین درلودی (لرلی) له مشرکانو سره به ئی دوستی نه کوله. یا که دوی پر نبی علیه السلام په اخلاص سره ایمان راوړی وی نو داسی حرکت به له دوی ځنی نه صادریده چه د اسلام له دښمنانو سره ناسته ولاړه او جوړه وکړی. په دی دوهم تقدیر سره به دا آیت د یهودو د منافقانو په حق کښی وی.

وَلٰكِنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿٨١﴾

او لیکن ډیر (کسان) له دوی ځنی فاسقان دی (د ایمان له دائری څخه وتونکی).

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ او د خپل منلی رسول سره د ډیری نافرمانی کولو له امله (وجی) دوی ته داسی یو حالت پیدا شو چه اوس د موحدینو په مقابل کښی مشرکینو ته ترجیح ورکوی. د افسوس ځای دی چه نن هم زیاتره په نامه سره مسلمانان هم داسی دی چه د مسلمانانو او د

کفارو د مقابلې په وخت کښې له کفارو سره دوستي کوي، او د کفارو حمايت او وکالت کوي.

**اللهم احفظنا من شرور انفسنا ومن سيئات اعمالنا.**

لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَدَٰوَةً لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱلْيَهُودَ وَٱلَّذِينَ أَشْرَكُوا۟ ۖ وَلَتَجِدَنَّ أَقْرَبَهُم مَّوَدَّةً لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱلَّذِينَ قَالُوٓا۟ إِنَّا نَصَـٰرَىٰ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّ مِنْهُمْ قِسِّيسِينَ وَرُهْبَانًا وَأَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٨٢﴾

خامخا مومې به ته ډير سخت له ټولو خلقو، له جهته د عداوت (دښمنۍ) له هغه کسانو سره چه مؤمنان دي يهوديان او (بل) هغه کسان چه مشرکان دي. او خامخا مومې به ته ډير نږدې له ګردو (ټولو) خلقو څخه له جهته د دوستۍ. له هغو کسانو سره چه مؤمنان دي هغه کسان چه وائي بيشکه مونږ نصارئ يو، دا (دوستي) په سبب د دې ده چه بيشکه ځينې له دوی رښتين عالمان او زاهدان پوهان دي او بيشکه چه دوی نه کوي تکبر او لويي (له منلو د حقه).

وَإِذَا سَمِعُوا مَا أُنزِلَ إِلَى الرَّسُولِ تَرَىٰ أَعْيُنَهُمْ
تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوا مِنَ الْحَقِّ يَقُولُونَ رَبَّنَا آمَنَّا
فَاكْتُبْنَا مَعَ الشَّاهِدِينَ ﴿٨٣﴾ وَمَا لَنَا لَا نُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَمَا جَاءَنَا مِنَ
الْحَقِّ وَنَطْمَعُ أَن يُدْخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ الْقَوْمِ الصَّالِحِينَ ﴿٨٤﴾
فَأَثَابَهُمُ اللَّهُ بِمَا قَالُوا جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ
فِيهَا وَذَٰلِكَ جَزَاءُ الْمُحْسِنِينَ ﴿٨٥﴾ وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا
بِآيَاتِنَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ ﴿٨٦﴾

---

او کله چه واوری دوی هغه (کلام د الله قرآن) چه نازل (رالیږلی) شوی دی طرف د رسول ته (نو) وینی به ته سترګی د دوی چه بهیږی (تویوی) له اوښکو له جهته د دی چه وپیژانده دوی له حقو (خبرو د الله) وائی دوی ای ربه زمونږه ایمان راوړی دی مونږ (په قرآن او رسول د تا) نو ولیکه مونږه له شاهدانو (منونکو) او څه باعث دی پر مونږ چه نه به راوړو ایمان په الله او په هغه چه راغلی دی مونږ ته له حق څخه (چه رسول او قرآن دی) حال دا چه طمع (هیله (امید) لرو د دی چه داخل به کړی مونږ رب زمونږ سره له قوم صالحانو (چه محمدی امت دی په جنت کښی) پس بدل ورکړ دوی ته الله په سبب د هغه چه ویلی دوی جنتونه چه بهیږی له لاندی (د ونو او ماڼیو) د دوی ویالی چه تل به وی دوی په هغو کښی او دا (جنت) جزاء د محسنانو (نیکی کوونکو) ده او هغه کسان چه کافران (منکران) شوی دی او نسبت د دروغ ئی کړی آیتونو زمونږ ته هم دغه کسان صاحبان د جحیم (ملګری د دوزخ) دی.

---

**تفسیر:** په دی آیتونو کښی دا ښوولی شوی دی چه د یهودانو دوستی له مشرکینو سره محض د اسلام او مسلمانانو د بغض او عداوت له سببه ده. د هغو قومونو له جملی څخه چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورسره زیاته سابقه درلوده (لرله) یهودانو او مشرکینو دواړو قومونو په ترتیب سره

له اسلام او مسلمانانو سره سخت بغض او عداوت درلود (لرلو). د مکی معظمی د مشرکانو ضرر رسول الله صلی الله علیه وسلم ته خو «اظهر من الشمس» دی، لیکن ملعونو یهودانو هم له دیرو سپکو او ناوړو (غلطو) حرکاتو څخه لاس نه آخیسته په داسی حال کښی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مطمئن او داده ناست ؤ لویه تیږه (ګټه) ئی پری وروړغړوله چه په شهادت ئی ورسوی، په طعام کښی به ئی زهر وراچول، سحر او کودی به ئی پری کولی، لنده ئی دا چه یو غضب به ئی وروسته له بل غضب او یو لعنت به ئی پس له بل لعنته ځانته ګاته. بالمقابل سره له دی چه نصارئ هم په کفر کښی مبتلا وو او له اسلام سره ئی حسد او رخه (کینه) درلوده (لرله) او داسی سترګی ئی نه درلودی (لرلی) چه په هغو سره د مسلمانانو عروج وکتلی شی، بیا هم په دوی کښی د حق منلو استعداد له دی دواړو فرقو ځنی زیات ؤ، د دوی زړونه د اسلام او د مسلمانانو محبت او مینی ته نسبتاً ژر مائل کیدل او سبب ئی دا ؤ چه تر هغه وخته پوری د علم زیاته ترقی او پرمختګ د دوی په منځ کښی نظر نورو اقوامو ته دیر ؤ او د دوی له طریقی سره سم تارک‌الدنیا او د زاهدانه ژوندانه غوره کوونکی کسان پکښی زیات وو، رقت القلب، د زړه نرمی او تواضع د دوی خاص صفت ؤ. په هر هغه قوم کښی چه دا صفات او خصال زیات وی ښایی چه د هغو لازمی نتیجی هم داسی وی چه په دوی کښی د قبول الحق او تسلیم او امانتداری ماده زیاته وی چه د حق له قبوله عموماً دری شیان ممانعت کوی جهل، حب‌الدنیا یا حسد او تکبر او نور د قسیسانو وجود د جهل مانع و. او د رهبانانو وجود د حب‌الدنیا، کبر، نخوت او د نورو د تکثر او زیادت سره مخالف او د رقت القلب، تواضع او لورینی له صفتونو سره نسبتاً موافق ؤ،

لکه چه د روم (قیصر) او د مصر باچا (مقوقس) او د حبشی تولواک (باچا) نجاشی هغه سلوک چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د رسالت له دعوت سره کړی دی د دی خبری شاهد دی چه په هغه وخت کښی د حق منلو او د مسلمانانو د دوستی صلاحیت او استعداد په دوی کښی د نورو اقوامو په نسبت زیات ؤ.

کله چه د اصحابو یوه ډله د مشرکانو د ظلم او تیری له لاسه پکو (تنګه) شوه نو د (حبشی) په لوری ئی هجرت وکړ او مشرکان تر هغه ځایه پوری هم د مسلمانانو په تعقیب کښی وو او (نجاشی) ته ئی د دوی په خلاف ویناوی وکړی نو (نجاشی) یوه ورځ دغه مسلمانان خپل حضور ته وروغوښتل او څه پوښتنی ئی له دوی څخه وکړی او د مسیح علیه السلام په نسبت ئی هم د دوی عقیدی ځان ته ښکاره کړی، حضرت جعفر رضی الله تعالیٰ عنه د «مریم» د سورت څو آیتونه ورته ولوستل، او خپلی عقیدی بی په صاف ډول (طریقه) وربیان کړی په (نجاشی) ئی دیر زیات تاثیر وکړ او اقرار ئی وکړ «څه شیان چه د حضرت مسیح علیه السلام په نسبت بیان فرمایلی شوی دی، بیخی رښتیا او بالکل صحیح دی» (نجاشی) د پخوانیو کتابونو له بشارتونو سره سم محمد صلی الله علیه وسلم آخرالزمان نبی ومانه دا قصه اوږده ده لنده ئی دا چه له هجرت څخه څو کاله وروسته د حبشی باچا یوه جرګه (چه پر اویا تنو جدیدالاسلامو عیسائیانو

مشتمله وه) د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم اقدس خدمت ته ولیږله کله چه دا جرګه مدینې منورې ته ورسیده او د قرآن کریم له اوریدلو څخه خوندوره شوه نو د الٰهي کلام له اوریدلو څخه دوی ته زیات رقت پیدا شو او په ژړا شول او په داسې حالت کښې چه د دوی له سترګو اوښکې بهیدې پر ژبو ئې د «ربنا آمنا» کلمات جاري وو.

په دې آیتونو کښې د همغې جرګې حال بیان شوی دی خو هیڅ خبر نه دی ورکړی شوی چه تل به د عیسائیانو او یهودانو او مشرکانو او د نورو تعلقات له اسلام او مسلمینو سره تر قیامته پورې هم داسې پاتې کیږي، نن ورځ په هغو کسانو کښې چه عیسائیان بلل کیږي قسیسان او رهبانان او متواضعان او نرم مزاجه کسان له سره نشته او بیخي داسې سرې نه دي پاتې چه د الله تعالیٰ د کلام له آوریدلو څخه دوی ته رقت پیدا، او له سترګو څخنې ئې اوښکې وبهیږي کله چه د هغه ﴿أَقْرَبَهُم مَّوَدَّةً﴾ علت له سره نشته چه په ﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ مِنْهُمْ قِسِّيسِينَ﴾ کښې بیان فرمایل شوی دی نو معلول یعنې «قرب المودة» به ولې موجود وي؟

په هر حال هغه اوصاف چه د نبوی عصر د عیسائیانو، یهودانو او مشرکانو په باره کښې بیان شوي دي، هغه هر کله او هر چیرې او په هره اندازه سره چه موجود شي د هغو په نسبت دې له اسلام او مسلمینو سره د دوی عداوت او محبت هم قیاس کړی شي!.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُحَرِّمُواْ طَيِّبَٰتِ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوٓاْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْمُعْتَدِينَ ﴿٨٧﴾ وَكُلُواْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ حَلَٰلًا طَيِّبًا ۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِىٓ أَنتُم بِهِۦ مُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾

---

ای هغو کسانو چه ایمان ئې راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو!) مه حراموئ تاسې پاک لذیذ له هغو شیانو نه چه حلال کړی دی الله له پاره ستاسې او مه کوئ تیرې تاسې (له حدودو د الله) بیشکه چه الله نه خوښوی تیریدونکې له حدودو. او خورئ تاسې له هغه څیزه چه رزق (روزي) درکړی ده تاسې ته الله (چه) حلاله پاکیزه (ده) او وویریږئ له الله څخه هغه (الله) چې تاسې پرې ایمان لرونکي یئ!

---

**تفسیر:** د دې سورت په شروع کښې د«عهدونو د ایفاء» له تاکید نه وروسته د حلالو او حرامو بیان شروع شوی ؤ، په همغه ضمن کښې د خاصو مناسباتو له امله (وجې) (چه مونږ د هغو ذکر ځای په ځای کړی دی) د نورو ګټورو مضامینو سلسله شروع شوې ده، «الشئ بالشئ یذکر ـ خبره له خبرې څخنې پیدا کیږي» اوس نور تول استطرادي مضامین ئې تمام کړل، د دې سپارې د

اولی رکوع د ربط له کبله (وجی) بیا د بحث اصلی موضوع ته رجوع کیږی او لطف په دی کښی دی چه له دی رکوع سره متصل په پخوانی رکوع کښی کوم مضمون چه تیر شوی دی، له هغه سره هم د دی رکوع مضمون په پوره ډول (طریقه) سره ربط لری، ځکه چه په پخوانی رکوع کښی د یهودانو او نصرانیانو فضیحتونه (رسوائی) او خرابی چه بیان کړی شوی د پوهانو په نزد د هغو خلاصه دوه شیان وو یعنی په دنیوی لذاتو او شهواتو او حرام خوړلو کښی د یهودانو انهماک چه د «تفریط فی الدین» سبب شو. او په دین کښی د نصرانیانو غلو او افراط چه بالاخره په «رهبانیت» او نورو منتهی شو. بلا شبه د «رهبانیت» په شان دینداری ته شائی د دیانت وبا وویل شی اگر که د نیت او اصلی منشاء په اعتبار فی‌الجمله محمود گانه (گڼل) شی، نو ځکه ﴿ذٰلِكَ بِأَنَّ مِنْهُمْ قِسِّيسِينَ وَرُهْبَانًا﴾ من وجه د مدح په معرض کښی وراندی کړی شوی دی، لیکن څرنگه چه دا ډول (طریقه) تجرد او ترک الدنیا د هغه عظیم مقصد او د قدرت د قانون په لاره کښی حائل ؤ، چه د عالم پیدا کوونکی د هغه مراعات د کائناتو په تخلیق کښی فرمایلی دی نو ځکه عالم نیوونکی دین ته (چه په ابدی ډول (طریقه) سره د گردو انسانانو د دارینو د فلاح او د معاش او معاد د اصلاح متکفل دی) ضروری وه چه د عبادت په دی ډول (طریقه) مبتدعانه (نوی بدعت) لاره باندی تنقید او سخت اعتراض وکړی.

هیڅ یو آسمانی کتاب تر نن پوری داسی جامع، معتدل او فطری تعلیم د انسانی ترقیاتو د هری شعبی په نسبت نه دی وړاندی کړی لکه چه په دغو دوو آیتونو کښی د قرآن کریم له خوا وړاندی شوی دی. په دی آیتونو کښی الله تعالیٰ مسلمانان په صاف ډول (طریقه) سره له دی نه منع کړی دی چه دوی کوم لذیذ، حلال او طیب شی په خپلو ځانونو عقیدتاً یا عملاً حرام وگرځوی، نه یواځی هم دا بلکه دوی ته الله تعالیٰ له حلالو او طیبو نعمتونو ځنی د متمتع کیدلو ترغیب هم ورکړی دی ـ مگر سره له سلبی او ایجابی شرطونو (۱) چه اعتداء (حد نه تجاوز) ونه کړی، او له حده تیر نه شی. (۲) چه تقویٰ اختیار کړی او له الله جل جلاله وویریږی.

د اعتداء (حد نه تجاوز) دوه مطلبه کیدی شی له حلالو شیانو سره لکه د حرامو په شان معامله کول. او د نصرانیانو په شان په رهبانیت کښی مبتلا کیدل ـ یا د لذائذو او طیباتو په متمتع کیدلو کښی د اعتدال له حده تیریدل ـ تر دی چه په لذتونو او شهوتونو کښی داسی لگیا او منهمک کیدل چه د یهودانو په شان یواځی دنیوی ژوندون خپل مقصد او مطمح نظر وگرځوی.

الغرض د غلو (مبالغی) او جفا او افراط او تفریط په منځ کښی یوه متوسطه او معتدله لاره اختیارول په کار دی. نه په دنیوی لذتونو کښی د ډوبیدلو اجازه شته، او نه د«رهبانیت» له لاری د مباحاتو او طیباتو پریښودل په کار دی. د «رهبانیت» له لاری قید مو ځکه کیښود . چه په ځینو وختونو کښی د بدنی یا نفسی علاج له امله (وجی) له کوم مباح څخه پرهیز کول په عارضی ډول (طریقه) سره په ممانعت کښی داخل نه دی او هم دا راز (قسم) مسلمان په تقویٰ سره مامور دی چه د هغی معنی دا ده چه له الله جل جلاله ځنی وویریږی او له ممنوعاتو ځنی اجتناب وکړی. له تجربی څخه معلومه شوی ده چه د ځینو مباحاتو استعمالول په ځینو وختونو

کښې د کوم حرام یا ممنوع شي ارتکاب ته مفضي کیږي. د داسې مباحاتو پرېښودل نه د عهد یا تقرب او قسم (لوړې) په توګه (طور) سره بلکه د احتیاط په ډول (طریقه) ښه دي. که کوم سړی ئې په کوم وخت کښې سره د اباحت له اعتقاده ترک کړي نو دغه «رهبانیت» نه دی بلکه په ورع او تقویٰ کښې شامل دی. **«لایبلغ العبد ان یکون من المتقین حتّٰی یدع مالاباس به حذراً ممابه باس. الترمذی»** الحاصل د اعتدأ ترک او د تقویٰ د اختیار د قید له ملحوظ سره له هر قسم طیباتو څخه استفاده کیدی شي او د ژوندانه په هر اړخ کښې د پرمختګونو وړونه پرانیستلې دي.

---

**لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِيٓ اَيْمَانِكُمْ**

---

نه نیسي تاسي الله په لغوه سره په قسمونو ستاسي کښې.

---

**تفسیر:** یعني پر دوی په دنیا کښې څه کفاره نشته، لکه چه په «منعقد یمین» کښې واجبه ده. د«لغو» او بیهوده قسم تفسیر په (۲) جزء د البقرة په (۲۲۵) آیت (۲۸) رکوع کښې پخوا لیکلی شوی دی، څرنګه چه پاس د طیباتو د تحریم ذکر ؤ، او تحریم هم یو قسم «یمین» دی نو ځکه اوس د «یمین» د احکامو ذکر کیږي

---

**وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُّمُ الْاَيْمَانَ ۚ فَكَفَّارَتُهٗٓ اِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسٰكِيْنَ مِنْ اَوْسَطِ مَا تُطْعِمُوْنَ اَهْلِيْكُمْ اَوْ كِسْوَتُهُمْ اَوْ تَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ ۖ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ ۚ ذٰلِكَ كَفَّارَةُ اَيْمَانِكُمْ اِذَا حَلَفْتُمْ ۚ وَاحْفَظُوْٓا اَيْمَانَكُمْ ۚ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿٨٩﴾**

---

ولیکن نیسي تاسي په (ماتولو د) هغه (عهد) سره چه کلک کړي وي تاسي قسمونه (پر هغه په قصد د زړه سره) نو کفاره (د ماتولو) د دې (قسم) طعام ورکول دي لسو مسکینانو ته له اوسطې (درجې) د هغو خوړو چه طعام ورکوئ تاسي (په هغه سره) کورنیو خپلو ته یا جامې ورکول دي دغو (لسو

مسکینانو) ته یا آزادول د (یوی) غاړی دی (د مرئی) نو هر څوک چه ونه مومی (له دغو درو واړو کفاراتو یو هم) نو روژه نیول د درو ورځو دی دا (مذکور شیان) کفارت د قسمونو ستاسی دی کله چه قسم یاد کړئ تاسی (او بیا ئی مات کړئ) او ساتئ تاسی قسمونه خپل (له هر قسم نقصانه)، هم داسی (چه د یمین احکام ئی بیان کړل) بیانوی الله تاسی ته آیتونه خپل له پاره د دی چه شکر وکاږئ په دی نعمت او احسان او شرعی بیان

---

**تفسیر:** یعنی له قسم ماتولو څخه وروسته کفارت اوری چه هغه یو له دغو څلورو واړو کارونو څخه دی

(۱): طعام ورکول دی لسو تنو مسکینانو ته په طعام ورکولو کښی اختیار لری چه لس تنه مسکینان په خپل کور کښی میلمانه کوی او مړوی ئی یا د «فطر» د صدقی په اندازه هر مسکین ته غله یا د هغی قیمت ورکوی (له اوسطی نه د دوو وختو طعام مراد دی، سره د (نکلی ـ کتغ) څکه چه اعلیٰ ئی (۳) وخته سره له نورو لوازمو دی او ادنیٰ ئی یو وخته سپوره دوډی ده).

(۲): داسی جامه ورکول دی چه په هغی سره د مسکین د بدن اکثره برخه پټه شی مثلاً کمیس (قمیص)، یا پرتوګ یا تیکری (یا هغه چه د عورت ستر راولی او لمونځ پری وشی).

(۳): د یوه مریی آزادول دی، په دغه کښی ایمان شرط نه دی (مومن وی که کافر او په دغو درو واړو کښی سړی مخیر دی چه هر یو کوی.)

(٤): روژه نیول دی چه متواتر پرله پسی دری ورځی دی روژه ونیسی، د ﴿فَمَن لَّمْ يَجِدْ﴾ د نه میندلو څخه مراد دا دی چه د نصاب خاوند نه وی. کما فی روح المعانی ﴿وَاحْفَظُوا أَيْمَانَكُمْ﴾ او ساتئ تاسی قسمونه خپل یعنی اول خو د قسم له کولو څخه ژبه وساتئ. او که ئی کله وکړئ او په ماتولو کښی ئی خیر نه ؤ نو بیا ئی له ماتولو څخه وساتئ او که درڅخه مات شو نو بیا ئی د کفارت له ترک کولو څخه وساتئ په بل عبارت د قسمونو حفاظت دا دی چه پر هری خبری بی له ضرورته قسم ونه خوری چه دغه ښه عادت نه دی او که قسم ئی وکړ نو تر مقدوره دی وساتی (که په ماتولو کښی ئی خیر وی مات دی کری او کفاره دی ورکړی!) او که له کومه سببه ئی مات کړی نو کفارت دی ادا کړی، دا ګرد (ټول) شیان د یمین په حفاظت کښی داخل دی. ﴿كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ﴾ الآیة ـ هم داسی چه د یمین احکام ئی بیان کړل بیانوی الله تاسی ته آیتونه خپل له پاره د دی چه شکر وکاږئ تاسی په دی نعمت او احسان د شرعی بیان دا څومره لوی احسان دی کله چه مونږ له طیباتو څخنی مخ واړاوه الله تعالیٰ مونږ ته له دغه مخ اړولو څخه منع وکړه، او که چا په غلطه سره په خپل ځان «طیبات» حرام کړل، نو د یمین (قسم) له حفاظت سره د هغو د حلالیدلو طریقه ئی هم راښودلی ده.

﴿يٰٓأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْاَنْصَابُ وَالْاَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ فَاجْتَنِبُوْهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ۝٩٠﴾

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو) بیشکه هم دا خبره ده چه شراب او قمار او بتان او غشی (د فال، دا څلور واړه تول) پلیت دی له کار د شیطان څخه دی نو ځان وساتئ تاسی له دی څخه له پاره د دی چه نجات وموموئ تاسی (په دی ځان ساتلو سره)

**تفسیر:** د «انصاب» او د «ازلام» تفسیر په (٦) جزء د (المآئدة) د سورت په (٣) آیت په اوله رکوع کښی د ﴿وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَاَنْ تَسْتَقْسِمُوْا بِالْاَزْلَامِ﴾ په ذیل کښی تیر شو، له دی آیت څخه پخوا هم ځینی آیتونه د شرب الخمر (شراب څښلو) په نسبت نازل شوی وو اول دا آیت نازل شوی ؤ ﴿يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيْهِمَآ اِثْمٌ كَبِيْرٌ وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَاِثْمُهُمَآ اَكْبَرُ مِنْ نَّفْعِهِمَا﴾ (٢) جزء د البقرة (٢١٩) آیت (٢٧) رکوع اگر که په دغه آیت کښی هم د خمر د تحریم په لوری صریحه اشاره شته ـ مگر څرنگه چه په هغه کښی په صاف طور سره د خمر د پریښودلو حکم نه ؤ. نو ځکه حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه د هغه له اوریدلو څخه وروسته وویل «اللهم بین لنابیاناشافیا» وروسته له دی نه بل آیت راغی ﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى﴾ الآیة ـ (٥) جزء د النسأ (٤٣) آیت (٧) رکوع، په دی کښی هم د خمرو د تحریم تصریح نه وه، اگر که د نشی په حالت کښی له لمانځه ځنی ممانعت شوی دی او دغه قرینه وه په دی خبری باندی چه غالباً دا شی عنقریب بیخی حرام کیدونکی دی. مگر څنگه چه په عربو کښی د شرابو د څښلو رواج دیر زیات ؤ، او له هغو څخه دفعتاً ځان ژغورل (بچ کول) د مخاطبینو په لحاظ سهل او آسان نه ؤ نو ځکه په نهایت حکیمانه دول (طریقه) سره ئی متدرجاً رومبی د شرابو نفرت په زړونو کښی ورواچاوه او بیا ورو ورو د تحریم له حکم سره ئی مأنوس کړل. لکه چه حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه د دی دوهم آیت له اوریدلو څخه بیا هغه الفاظ تکرار کړل چه «اللهم بین لنابیاناً شافیا» څو د (المآئدة) دا آیتونه چه مونږ ئی په تلاوت سره اوس مشرف یو له ﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّمَا الْخَمْرُ﴾ څخه تر ﴿فَهَلْ اَنْتُمْ مُّنْتَهُوْنَ﴾ پوری نازل شول چه د بت پرستی په شان په دی کښی په دیر صاف او ښکاره دول (طریقه) سره له دی ناولی او مردار شی څخه د اجتناب کولو هدایت راکړی شوی دی. لکه چه حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه د ﴿فَهَلْ اَنْتُمْ مُّنْتَهُوْنَ﴾ له اوریدلو څخه وروسته په زوره ناری کړی «انتهینا انتهینا یا ربنا!» او خلقو د شرابو چاتی گانی ماتی کړی، او شرابخانی له شرابو څخه تشی شوی. د مدینی منوری په کوڅو کښی لکه د باران اوبه شراب وبهیدل، تولو عربو دغه ناولی او مردار شراب پریښودل، او د ربانی معرفت، او د نبوی اطاعت او محبت له طهورو شرابو څخه مخمور شول، او د دی ام الخبائث په مقابل کښی د محمد صلی الله علیه وسلم

جهاد داسی کامیاب شو، چه د هغه بل کوم نظیر په تاریخ کښی نشی پیدا کیدی. د الله تعالیٰ دی قدرت ته وګورئ! دغه شی چه د پاک قرآن له خوا په دومره شدت، له ډیرو پیړیو را په دی خوا منع کړی شوی دی، نن ورځ له ګردو (تولو) څخه زیاتو شراب څښونکو هیوادونو (لکه امریکه او نور هم) د هغو خرابی ورانی او ضرر محسوس کړی دی او د شرابو په تقلیل او امحاء کښی زیار (محنت) او کوښښ کوی ـ فلله الحمد والمنه.

إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَٰنُ أَن يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَٰوَةَ وَالْبَغْضَآءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَن ذِكْرِ اللَّهِ وَعَنِ الصَّلَوٰةِ فَهَلْ أَنتُم مُّنتَهُونَ ﴿٩١﴾

بیشکه چه هم دا خبره ده، غواړی شیطان چه واچوی په منځ ستاسی کښی عداوت (دښمنی) او بغض (کینه) په څښلو) د شرابو کښی او (کولو د) قمار کښی او واړوی تاسی له یاده د الله او له لمانځه څخه نو آیا یئ تاسی منع کیدونکی (اوښتونکی له دی بدو کارونو؟ بلکه واوړئ)

**تفسیر:** کله چه د شرابو د څښلو له اثره د سړی عقل او سد (هوش) له سر څخه لاړ شی نو ډیر ځلی شرابیان د لیونیانو په شان په خپلو منځو کښی جنګونه او جګړی سره کوی او یو له بل سره وهی تر دی چه په ځینو وختونو کښی له سد کیدلو څخه وروسته هم د جنګ آثار په دوی کښی پاتی وی او یو له بل سره عداوتونه او عنادونه کوی. هم دغه حال بلکه له دی څخه زیات د قمار (جواری) دی. د قمار په وړلو او بایللو کښی سختی جګړی، منازعی او فسادونه پیښیږی، چه د هغو په وسیله شیطان ته ښه موقع د شور ماشور اچولو له پاره په لاس ورځی، دا خو ئی ظاهری خرابی شوه باطنی نقصان ئی دا دی چه د هسی شیانو په مشغولیدلو سره انسان د الله تعالیٰ له یاد او عبادت څخه بیخی غافلیږی او د دی خبری دلیل مشاهده او تجربه ده، شطرنج کوونکو ته وګورئ چه نه یواځی لمونځ بلکه خوراک او څښاک او ژوندون او کور او کهول ئی هم له یاده وتلی وی. کله چه دا شیان د داسی ظاهری او باطنی نقصانونو لرونکی دی، نو آیا یو مسلمان به د دی شیانو له اوریدلو او پوهیدلو څخه وروسته بیا هم تری ځان نه ژغوری (بچ کوی)؟ بلکه و دی ژغوری (بچ د کړی)!

**فائده:** په دغو دواړو آیتونو کښی د شرابو او قمار د حرمت تائید او تاکید په لس ډوله (قسمه) شوی دی

(۱): دا چه جمله ئی په «انما» سره شروع فرمایلی ده تاکید فائده کوی.

(۲): د بت پرستی په شان ئی وفرمایل.
(۳): پلیت ئی وبلل.
(٤): د شیطان عمل ئی وباله.
(٥): د اجتناب امر ئی تری صادر کړ.
(٦): دا چه اجتناب ئی د نجات سبب دی.
(۷): دا چه د بغض، عداوت او کینی موجب دی.
(۸): دا چه د خدای له ذکر او یاد څخه ګرځوونکی دی.
(۹): دا چه حصاروونکی دی له لمانځه.
(۱۰): دا چه صریح امر صادر شوی دی چه د شرابو له څښلو او قمار وهلو څخه واوړئ!

وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَاحْذَرُوا ۚ فَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوا أَنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ ﴿٩٢﴾

او ومنئ تاسی (حکم د) الله او ومنئ تاسی (حکم د) رسول (د الله) او وساتئ تاسی (ځان له مخالفت د دوی) پس که وګرځیدلئ تاسی له احکامو د دوی) نو یوه شئ چه بیشکه هم دا خبره ده چه پر رسول زمونږ (محمد) هم دا رسونه (د پیغام) ده ښکاره (روښان په ښه وجه سره).

**تفسیر:** یعنی که د یوه شی ګټی او ضررونه تاسی نشئ احاطه کولی نو بیا هم د الله تعالیٰ د احکامو امتثال وکړئ او د الٰهی قانون له تخلفه ځان وساتئ! او که مو ځانونه تری ونه ساتل نو زمونږ رسول الٰهی احکام او قوانین تاسی ته په ښکاره ډول (طریقه) سره دررسولی دی، د تخلف نتیجی ته تاسی په خپله فکر وکړئ! چه څه به کیږی؟ د هغه اضرار یقیناً تاسو ته رسیدونکی دی.

لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوا إِذَا مَا اتَّقَوا وَّآمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ثُمَّ اتَّقَوا وَّآمَنُوا ثُمَّ اتَّقَوا وَّأَحْسَنُوا ۗ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴿٩٣﴾

نشته پر هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی وی او کړی ئی وی ښه (عملونه) هیڅ ګناه په هغه شی کښی چه خوړلی دی دوی (له حرمت څخه پخوا) کله چه راتلونکو څخه ځان وساتی او تینګ وی په ایمان کښی او کوی ښه (عملونه) بیا ځان تینګ کړی (له محرماتو) او ایمان راوړی (په تحریم د محرماتو هم) بیا (وروسته له هغه) پرهیز کوی (له شبهاتو هم) او احسان کوی (له خلقو سره یا ښه کړی ګرد (تول) اعمال خپل) او الله خوښوی نیکی کوونکی (نو ښه جزا ورکوی)

---

**تفسیر:** په نهایت قوی او صحیحو احادیثو کښی راغلی دی کله چه د خمر د تحریم آیتونه نازل شول نو اصحاب کرام رضی الله تعالیٰ عنهم سؤال وکړ چه «یا رسول الله صلی الله علیه وسلم) د هغو مسلمانانو احوال به څه وی چه د تحریم له حکم څخه پخوا ئی شراب څښلی او په همغه حالت کښی مړه شوی دی؟» مثلاً هغه ځینی اصحاب چه شراب ئی څښلی وو او د «احد» په غزا کښی شریک شوی وو او په هغه حالت کښی په شهادت ورسیدل چه په معده کښی ئی شراب هم موجود و نو د دوی په ځواب کښی دا آیت نازل شو. د الفاظو له عموم او د نورو روایاتو له کتلو څخه د دی آیت مطلب دا دی هغه کسان چه د ایمان او د نیک کار او صالح عمل خاوندان وی ژوندی وی که مړه هغوی ته د یوه مباح شی په خوړلو کښی د اباحت په وخت کښی هیڅ مضایقه نشته خصوصاً هغو کسانو ته چه په عامو احوالو کښی په تقویٰ او د ایمان په خصائلو سره متصف وی. او بیا په هم دی خصائلو کښی ئی پرله پسی ترقی کړی وی تر دی چه د ایمان او تقویٰ په مدارجو کښی ئی دومره ترقی کړی وی چه د احسان تر مرتبی پوری رسیدلی وی چه هغه د یوه مؤمن په روحانی ترقیاتو کښی د انتهائی ترقیاتو مقام کیدی شی. او هغه ځای ته د رسیدلو څخه وروسته حق تعالیٰ له داسی بنده سره خصوصی مینه کوی **(وفی حدیث جبریل: الاحسان ان تعبدالله کانک تراه)** نو هغه متقی او پاک اصحاب چه په ایمان او تقویٰ کښی ئی خپل عمرونه تیر کړی دی او د احسان نسبت ئی حاصل کړی دی، او د الله تعالیٰ په لاره کښی شهیدان شوی دی، د هغو په نسبت د داسی خلجانونو او توهماتو د پیدا کیدلو له سره ضرورت او امکان نشته، چه دوی د داسی یوه شی له استعمالولو څخه وروستو له دنیا انتقال وکړ چه په هغه وخت کښی نه ؤ حرام مګر وروسته حرام شو. محققینو لیکلی دی چه د تقویٰ (یعنی له هغو شیانو څخه اجتناب کول چه دین ته ضرر رسوی) له پاره څو درجی دی او د ایمان او یقین مراتب هم د قوت او ضعف په لحاظ تفاوت سره لری. له تجربو او شرعی نصوصو څخه ثابته ده څومره چه سړی په ذکر او فکر په صالح عمل او په جهاد فی سبیل الله کښی ترقی وکړی په همغه اندازه د الله تعالیٰ خوف او زړه ئی د ده د عظمت او جلال له تصوره معمور او ایمان او یقین ئی مضبوط او مستحکم کیږی د سیرالیالله مراتبو او د هغه ترقی او عروج ته په هم دی آیت کښی د تقویٰ او ایمان په تکرار سره اشاره وشوه. او د سلوک آخری مقام

«احسان» او د ده ثمری ته ئی هم تنبیه وفرمایله. او د هغه سؤال په نسبت چه د اصحابو په باره کښې کړی شوی ؤ په یوی عامی او تامی ضابطی د هغه ځواب ورکړی شوی دی او په داسی یوه عنوان سره ځواب ورکړی شوی دی چه په هغه کښې د هغو مرحومانو د فضیلت او منقبت په لوری هم یوه لطیفه اشاره شوی ده د صحیحو احادیثو په ذخیره کښې دوه داسی ځایونه دی چه اصحابو کرامو رضی الله تعالیٰ عنهم داسی پوښتنی کړی دی.

(۱): هم دا د خمر د تحریم په متعلق (چه پاس تیر شو.)

(۲): د قبلی د تحویل په وخت کښې چه «یا رسول الله! هغه مسلمانان چه پخوا د قبلی له تحویل څخه وفات شوی دی، او یو لمونځ ئی هم د بیت الحرام په لوری نه دی کړی، د هغو د لمنځونو حال به څرنګه وی؟» د دې پوښتنی په ځواب کښې دا آیت نازل شو ﴿ وَمَا كَانَ اللهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ إِنَّ اللهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴾ (۲ جزء د البقرة (۱٤۳) آیت ۱۷ رکوع) له غور کولو څخه معلومیږی چه هم دا دوه مسئلی دی چه د هغو په نسبت د داسی صاف او ښکاره حکم له نازلیدلو څخه پخوا، ډیر واضح او قطعی آثار او قرائن موجود ؤ چه د هغو په لیدلو سره اصحاب کرام رضی الله تعالیٰ عنهم هر وخت د صریح حکم د نزول په انتظار کښې وو. د خمر په متعلق اوس مونږ څو داسی روایتونه نقل کړل چه زمونږ دا دعوی په هغو ښه ثابتیږی. او د «تحویل القبلی» په نسبت د قرآن کریم آیات ﴿ قَدْ نَرَىٰ تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا ﴾ چه د سیقول په شروع (د البقرة ۱٤٤ آیت ۱۷ رکوع) کښې تیر شو، خبر ورکوی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم هر وخت منتظر ؤ، چه د«تحویل القبلی» حکم به کله نازلیږی؟ او ښکاره ده چه داسی واضح حالات له اصحابو څخنی پټ پاتی کیدی نشول، نو ځکه د «تحویل القبلی» خبره کله چه یوه سړی د کومی کوڅی مسجد ته واوروله نو ګردو (تولو) لمونځ کوونکو د هم دی خبر واحد په آوریدلو سره د بیت المقدس په ځای (د بیت الحرام) په لوری مخونه واړول، او لمنځونه ئی ادا کړل، حال دا چه د بیت المقدس استقبال هغو ته په قطعی ډول (طریقه) سره معلوم ؤ او ظنی خبر واحد د قطعی خبر ناسخ کیدی نشی. نو ځکه د اصولو علماؤ تصریح کړی ده چه هغه خبر واحد چه په قرائنو مشتمل وی د محفوف‌بالقرائن‌توب (په قرائنو کښې د پتوالی) له سببه قطعی ګڼلی کیږی نو هغه آثار او قرائن چه په حتمی ډول (طریقه) سره خبر ورکوی چه د«تحریم الخمر» د (شرابو حرمت) یا د «تحویل القبلی» حکم نن یا سبا رارسیدونکی دی، ګواکی د حکم له نزول څخه پخوا هغو قرائنو او اماراتو اصحاب رضی الله تعالیٰ عنهم د حضرت الٰهی له مرضی څخه فی‌الجمله مطلع کړی ؤ۔ نو ځکه په دی دواړو مسئلو کښې د حکم له نزوله پخوا د هغه حالت په نسبت پوښتنی کول د استبعاد محل کیدی نشی خصوصاً د خمر په نسبت چه د هغو د ممانعت واضح اشارات په ﴿ وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا ﴾ او نورو کښې شته والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَيَبْلُوَنَّكُمُ ٱللَّهُ بِشَيْءٍ مِّنَ ٱلصَّيْدِ تَنَالُهُۥٓ أَيْدِيكُمْ وَرِمَاحُكُمْ لِيَعْلَمَ ٱللَّهُ مَن يَخَافُهُۥ بِٱلْغَيْبِ فَمَنِ ٱعْتَدَىٰ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَلَهُۥ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٩٤﴾

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو!) خامخا ازمویی تاسی هرومرو (خامخا) الله په یوه شی له ښکاره (په وخت د احرام کښی) چه رسیږی (ځینو د) هغو ته لاسونه ستاسی (چه واړه دی) او (ځینو د هغو ته) نیزی ستاسی (چه غټ دی. دغه ازمیښت کوی) دپاره د دی چه ښکاره (معلوم) کړی الله هغه څوک چه ویریږی له ده په غیب سره (بی له لیدلو او بیل ئی کړی د ضعیف الایمان څخه) نو هر هغه چه له حده تیری وکړی (په کولو د ښکار په احرام کښی) پس له دی (منعی له ښکاره) نو دی ده ته عذاب دردناک

**تفسیر:** په ړومبنی رکوع کښی ئی له «تحریم الطیبات» او له «اعتداء» څخه منع فرمایلی وه او پکښی د ځینو شیانو د اجتناب حکم ئی ورکړی ؤ چه په دائمی ډول (طریقه) سره حرام دی په دی رکوع کښی د ځینو هغه شیانو له ارتکابه منع کړی شوی ده چه دائمی حرمت په کښی نشته بلکه له ځینو احوالو او اوضاعو سره مخصوص دی، یعنی د احرام په حالت کښی د ښکار له نه کولو څخه مطلب دا دی چه د الله تعالیٰ له طرفه په مطیعو او امر منونکو بندګانو دغه امتحان دی چه دوی د احرام په حالت کښی کله چه له ښکاره سره مخامخ شی او په آسانی سره د هغه په ویشتلو او نیولو هم قادر وی، نو څوک دی چه بی له لیدلو څخه له الله تعالیٰ څخه وویریږی او د هغه د حکم امتثال وکړی؟، او له اعتداء (د الهٰی احکامو له تجاوز کولو) څخه د الهٰی سزا له امله (وجی) وویریږی؟

د اصحاب السبت قصه (په اول جزء د البقرة په (٦٥) آیت (٨) رکوع کښی) تیره شوی ده چه حق تعالیٰ خاص د شنبی (خالی) په ورځ کښی دوی د ماهی (کب) له ښکاره منع کړی وو، مګر دوی په مکر او حیلو له هغه حکم څخه غاړه وغړوله او له خپله حده ئی تیری او تجاوز وکړ، الله تعالیٰ پر دوی ډیر رسوا کوونکی عذاب نازل کړ، په دی ډول (طریقه) سره حق تعالیٰ له محمدی امت څخه هم لږ څه امتحان په دی مسئله کښی واخیست چه د احرام په حالت کښی ښکار ونه کړی (د حدیبیی) په موقع کښی کله چه دا حکم نازل شوی ؤ نو ښکار دومره ډیر او نژدی ؤ چه په لاسونو او نیزو سره هم د هغو اخیستل او وژل ممکن ؤ، مګر د رسول الله صلی الله علیه وسلم اصحابو رضی الله تعالیٰ عنهم دا په ثبوت ورسوله چه د الله تعالیٰ په داسی امتحان کښی هم هیڅ یو قوم د دوی په اندازه نشی بریالی (کامیاب) کیدی. د «**لیعلم الله**» له لفظ څخه چه د باری تعالیٰ د علم د حدوث توهم پیدا کیږی د هغه د ازالی له پاره (په دوهم جزء د

البقرة (۱٤٣) آیت (۱۷) رکوع د ﴿ إِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ يَتَّبِعُ الرَّسُولَ ﴾ تفسير ولوستل شی!

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقْتُلُواْ ٱلصَّيْدَ وَأَنتُمْ حُرُمٌ ۚ وَمَن قَتَلَهُۥ مِنكُم مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآءٌ مِّثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ ٱلنَّعَمِ يَحْكُمُ بِهِۦ ذَوَا عَدْلٍ مِّنكُمْ هَدْيًۢا بَٰلِغَ ٱلْكَعْبَةِ أَوْ كَفَّٰرَةٌ طَعَامُ مَسَٰكِينَ أَوْ عَدْلُ ذَٰلِكَ صِيَامًا لِّيَذُوقَ وَبَالَ أَمْرِهِۦ ۗ عَفَا ٱللَّهُ عَمَّا سَلَفَ ۚ وَمَنْ عَادَ فَيَنتَقِمُ ٱللَّهُ مِنْهُ ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ ذُو ٱنتِقَامٍ ﴿٩٥﴾

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو) مه وژنئ تاسی ښکار حال دا چه تاسی محرمان اوسئ او هر هغه چه ووژنی دا (ښکار) له تاسی ځخه په قصد سره نو (پری) بدل دی په مثل د هغه چه وژلی (یی) دی له چارپایانو ځخه چه حکم به کوی په هغه سره دوه خاوندان د عدل (انصاف) له تاسی (مسلمانانو) ځنی په دی حال چه هغه (د بدل حیوان) د نذر په ډول (طریقه) ورسولی شی کعبی ته یا (پری کفاره ده طعام د (شو تنو) مسکینانو یا په برابری د هغه (طعام) روژه نیول دی له پاره د دی چه وڅکی سختی د عمل خپل عفوه کړی ده الله له هغه شی چه پخوا تیر شوی دی او هر هغه چه بیرته وګرځیده (ښکار کولو ته په احرام کښی) نو بدل به واخلی الله له ده ځخه او الله ښه قوی غالب دی (په انفاذ د احکامو) ځیښتن (خاوند) د بدل اخیستو دی (له مجرمینو نه).

**تفسير:** یعنی مه وژنئ ای مؤمنانو! ښکار کله چه تاسی په احرام کښی اوسئ! یعنی هر هغه حیوان چه له تاسی ځخه ترهیدونکی وی غوښه ئی حلاله وی او که حرامه بی له تپوس، غټ کارغه، لړم، موږک او خوړونکی شی چه د دی پنځو واړو قتل په احرام کښی هم روا دی. او په یو روایت کښی د لړم په ځای مار، او د سپی په ځای لیوه راغلی دی. او هر څه چه میاشی، ورږی، کنی، شمشتی او میږی دی، زمونږ د حنفیانو په مذهب عفوه دی «احمدی» د دی په متعلق ځینی احکام په (٦) جزء د المآئدة په (۱۱) آیت (۱۱) رکوع کښی هم تیر شوی دی.
﴿ وَمَن قَتَلَهُۥ مِنكُم مُّتَعَمِّدًا ﴾ او هر هغه چه ووژنی دا ښکار له تاسی په قصد سره له دغه قصد

ځخه دا مطلب دی چه خپل احرام ئی په یاد وی او په دی هم مستحضر وی چه د احرام په حالت کښی ښکار جائز نه دی دلته ئی یوائی د«متعمد»حکم وفرمایه چه د ده د فعل سزا دا ده. او الله تعالیٰ کوم انتقام چه آخلی هغه بیل دی لکه چه په ﴿ وَمَنْ عَادَ فَيَنْتَقِمُ اللَّهُ مِنْهُ ﴾ سره ئی تنبیه وفرمایله او که په هیره سره ئی ښکار وکړ نو سزا ئی هم دغه ده یعنی «هدی» یا «طعام» یا صیام هو! الله تعالیٰ له ده ځنی انتقامی سزا نه اخلی. زمونږ د حنفیانو په نزد که په احرام کښی ښکار ونیوه شو نو خوښی کول ئی فرض دی که ئی وواړه نو دوه د بصیرت او تجربی خاوندان دی قیمت کړی. او له همغه قیمت سره دی برابر یو حیوان واخلی (مثلاً پسه، غوئی اوښ او نور) او کعبی شریفی ته نژدی یعنی د حرم حدودو ته دی ورسوی! او هلته دی ذبح کړی او په خپله دی له هغه ځخه نه خوری! یا په هغه قیمت سره دی غله واخلی! او هر محتاج ته دی د صدقة الفطر په اندازه تقسیم کړی! یا پر څومره محتاجانو چه رسیږی د هغو له شمیر سره برابر دی روژی ونیسی! ﴿ عَفَا اللَّهُ عَمَّا سَلَفَ ﴾ عفوه کړی ده الله له هغه شی چه پخوا تیر شوی دی یعنی د حکم له نزوله پخوا، یا ړومبی له اسلامه د جاهلیت په زمانه کښی که چا داسی حرکت کړی وی نو اوس الله تعالیٰ څه سزا نه ورکوی. حال دا چه له اسلامه پخوا هم عربو د احرام په حالت کښی داسی ښکار کول دیر بد ګانه ـ نو ځکه پر هغه هم مؤاخذه بیځایه نه وه چه هغه شی چه ستاسی د زعم سره سم هم په جرائمو کښی داخل ؤ د هغه ارتکاب ولی کړی شوی دی؟ ﴿ وَاللَّهُ عَزِيزٌ ذُو انْتِقَامٍ ﴾ او الله ښه قوی غالب دی په انفاذ د احکامو، ځښتن (خاوند) د بدل اخیستو دی له مجرمینو ځخه یعنی نه کوم مجرم د ده د قدرت له قبضی ځخه تښتیدلی شی، او نه الله جل جلاله د عدل او حکمت په اقتضاء له هغو جرائمو ځنی چه د سزا ورکولو وړ (لائق) دی تیریدونکی دی (مګر هغه چاته چه اراده وفرمائی.)

---

أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ وَطَعَامُهُ مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِلسَّيَّارَةِ ۖ وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًا ۗ وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٩٦﴾

---

حلال کړی شوی دی تاسی ته (ای مسلمانانو) ښکار د بحر او طعام د بحر له پاره د نفع اخیستو ستاسی او دپاره د (نورو) مسافرانو (چه وچ ئی کاندی) او حرام کړی شوی دی په تاسی ښکار د وچی څو چه اوسئ تاسی محرمان او وویریږئ تاسی له الله هغه چه هم ده ته به ورټول کړل شئ (په جمع به وروستی شئ) تاسی

---

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب لیکی «په احرام کښی د دریاب ښکار یعنی ماهی (کب) حلال دی او د سیند خواړه یعنی هغه ماهی چه له اوبو ځنی بیل او مړ شوی وی او ده هغه نه وی نیولی،

هم حلال دی الله تعالیٰ وفرمایل چه دا مو ستاسی د فائدی له امله (وجی) روا کړی دی. بیا دی شوک داسی گومان ونه کړی چه دا د حج په طفیل حلال شوی دی. وئی فرمایل چه د نورو گردو (تولو) مسافرانو د فائدی له پاره ماهی اگر که په تالاؤ کښی وی هغه هم د سیند د ښکار حکم لری. دا د ښکار حکم معلوم کړی شو. په احرام کښی (د مکی معظمی) په لوری قصد دی چه په هغی او د هغی په شاو خوا کښی تل ښکار کول حرام دی. بلکه هلته د ښکار ویرول او تښتول هم حرام دی».

جَعَلَ اللّٰهُ الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ قِيٰمًا لِّلنَّاسِ وَالشَّهْرَ الْحَرَامَ وَالْهَدْيَ وَالْقَلَآئِدَ

گرځولی ده الله کعبه چه کوته ده د بزرگی (او عبادت) (باعث) د قیام (او انتظام) له پاره د خلقو او میاشته بزرگه (هم) او مذبوحه نذر شوی کعبی ته (هم) او آمیل داره چارپایان (هم چه بیولی شی کعبی ته)

**تفسیر:** کعبه شریفه د خلقو د دینی او دنیوی دواړو حیثیتونو د قیام او انتظام باعثه ده. حج او عمره خو هغه عبادتونه دی چه د دوی اداء مستقیماً په کعبی شریفی پوری اړه (احتیاج) لری ـ لیکن د لمانځه له پاره هم د قبلی استقبال شرط دی. په دی ډول (طریقه) سره کعبه شریفه د خلقو د دینی عباداتو د قیام سبب شوی ده. بیا کله چه په حج او نورو مواقعو کښی له گردو (تولو) اسلامی ملکونو ځنی په لکونو مسلمانان هلته سره تولیږی نو دوی بیشماره تجارتی، سیاسی، اخلاقی، مذهبی او روحانی فوائد هم حاصلولی شی الله تعالیٰ دغه ځای «حرم آمن» گرځولی دی نو ځکه نه یوائحی هلته انسانانو، بلکه نورو ساکښانو (ذی روحو) ته هم امن په برخه کیږی. د جاهلیت په زمانه کښی چه ظلم او وینی تویول او فتنه او فساد خورول محض د عادی او معمولی خبرو په شان ؤ- یوه سړی د خپل پلار له قاتل سره هم په حرم شریف کښی تعرض نشو کولی. له مادی حیثیته هر انسان د دی منظری او ننداری له لیدلو ځخه حیرانیږی او په چرت (خیال) کښی لوبیږی، چه په «وادی غیر ذی زرع» کښی په دومره افراط سره د خوړلو او څښلو او د فواکهو او میوو د نفیسو اقسامو او نورو شخه دومره زیات شیان له کومو کومو ځایونو شخه راوړل کیږی؟ دا گرد (تول) حیثیتونه په «قیاماً للناس» کښی معتبر کیدی شی. او له تولو ځنی لویه خبره دا ده چه په الٰهی علم کښی لا له پخوا شخه دا مقدره شوی وه چه بنی نوع انسان ته له هم دی ځایه د ابدی هدایت عالم نیوونکی چینه بهیدونکی ده. او د مصلح اعظم، مبلغ اکرم، امام القبلتین، سیدالکونین محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د مولد او مسکن گرځیدلو شرف په تول جهان کښی د هم دی بختوری خاوری په برخه کیږی نو د دی

تولو وجوهو له امله (وجی) مونږ کعبی شریفی ته ﴿قِيَٰمٗا لِّلنَّاسِ﴾ ویلی شو، ځکه چه کعبه شریفه د ځمکی د مخ د ګردو (تولو) انسانانو په حق کښې د اخلاقو د اصلاح او د روحانیت د تکمیل او د هدایت د علومو مرکزی نقطه ده. او د هیڅ شی قیام بی له خپله مرکزه نشی کیدی علاوه پر دی د محققانو په نزد د ﴿قِيَٰمٗا لِّلنَّاسِ﴾ مطلب دا دی چه د کعبی شریفی مبارک وجود د کل عالم د قیام او د بقاء باعث دی. د دنیا ودانتیا تر هغه وخته پوری ده څو بیت الحرام او د ده احترام کوونکی مخلوقات موجود وی او کله چه الله تعالیٰ داسی اراده وفرمائی چه دی عالم او د هغه کارخانی ته خاتمه ورکړی نو له ګردو (تولو) کارونو څخه د مخه هم دا مبارک محل چه «بیت الله شریف» ورته وایی پورته کاوه شی، لکه چه د ځمکی د جوړولو په وخت کښې له ګردو (تولو) څخه د مخه هم دا متبرک محل جوړ شوی ؤ، ﴿إِنَّ أَوَّلَ بَيۡتٖ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ﴾ الآیة . د بخاری رحمة الله علیه په حدیث کښې دی چه یو تک تور وحشی (چه د «ذوالسویقتین» په نامه ئی لقب یاد کړی دی) د کعبی د عمارت یوه یوه دبره (ګټه) به ونړوی اما تر څو پوری چه الله تعالیٰ د دی جهان د نظام او قوام اراده لری هیڅ یو زورور او خورا قوی قوم هم د کعبی شریفی د انهدام په مقصد کښې نشی بریالی (کامیاب) کیدی او هیڅوک او هیڅ ملت په داسی ناپاکی ارادی له سره نشی کامیابیدی. د «اصحاب فیل» له قصی هر مسلمان خبر دی وروسته له هغو په هره زمانه کښې ځومره اقوام او اشخاص چه په داسی ناپاکو ارادو پسی لویدلی دی یا کومه پلمه (تدبیر) یی جوړه کړی ده یا ئی پس له دی نه جوړه کړی دوی تول سره پاتی او ناکامه شوی دی او ناکامه به شی. دا د الله تعالیٰ د حفاظت او د اسلامی صداقت عظیم الشان نښان دی چه د ظاهری اسبابونو او سامانونو له فقدان سره تر نن ورځی پوری هیچا په دغه ابلیسی مقصد کښې بری نه دی موندلی او نه به بری ومومی او کله چه د کعبی شریفی د عمارت په نړولو کښې د قدرت له لوری مخ نیوی ونشی نو وپوهیږئ چه د عالم د ورانی حکم رارسیدلی دی. د دنیا حکومتونه د خپلو دارالسلطنتونو او شاهی مانیو په حفاظت کښې په لکونو سری وژلو ته ورکوی، مګر که دی په خپله خپل شاهی قصر د کوم مصلحت له امله (وجی) وران یا تبدیل یا ترمیموی نو د معمولی او عادی مزدورانو په وسیله د هغه د نړولو حکم ورکوی. ښائی چه د هم دی خبری له امله (وجی) امام بخاری رحمة الله علیه د ﴿جَعَلَ ٱللَّهُ ٱلۡكَعۡبَةَ ٱلۡبَيۡتَ ٱلۡحَرَامَ قِيَٰمٗا لِّلنَّاسِ﴾ الآیة ـ په باب کښې د «ذوالسویقتین» حدیث درجوی او د ﴿قِيَٰمٗا لِّلنَّاسِ﴾ مطلب ته ئی هم داسی اشاره کړی ده چه مونږ پاس ولیکل (نبه علیه شیخنا المترجم قدس الله روحه فی دروس البخاری). په هر حال په دغه تر بحث لاندی آیت کښې د «محرم» د احکامو له بیانولو څخه وروسته د کعبی شریفی د عظمت او حرمت بیانول مقصود دی، بیا ئی د «کعبی شریفی» او د «احرام» په مناسبت د **شهر الحرام** او **(هدی)** او **(قلائد)** ذکر هم وفرمایه، لکه چه د دی سورت په شروع کښې ئی د ﴿غَيۡرَ مُحِلِّي ٱلصَّيۡدِ وَأَنتُمۡ حُرُمٌ﴾ سره ﴿لَا تُحِلُّواْ شَعَٰٓئِرَ ٱللَّهِ وَلَا ٱلشَّهۡرَ ٱلۡحَرَامَ وَلَا ٱلۡهَدۡيَ وَلَا ٱلۡقَلَٰٓئِدَ﴾ ملحق فرمایلی ؤ. والله اعلم.

ذٰلِكَ لِتَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلۡأَرۡضِ
وَأَنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَىۡءٍ عَلِيمٌ ﴿۹۷﴾

دا (تیر بیان) دپاره د دی دی چه پوه شئ تاسی چه بیشکه الله عالم دی په هر هغه شی چه دی په آسمانونو کښی او په هر هغه شی چه دی په ځمکه کښی او بیشکه الله په هر شی باندی ښه عالم دی.

**تفسیر:** یعنی کعبه شریفه «قیاما للناس» گرځول چه په هغی کښی دینی او دنیوی مصالح رعایت شوی دی او هغه خورا (ډیره) لویه پیشگویی چه په ظاهر کښی له قیاس څخه مخالفه ښکاری د دی دلیل دی چه په ځمکه او آسمانونو کښی هیڅ شی د پاک خدای له غیر محدود علم څخه وتلی نشی.

ٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ وَأَنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿۹۸﴾

پوه شئ تاسی چه بیشکه الله ډیر سخت دی عذاب د ده (هغه ته چه تل د حرامو ارتکاب کوی) او بیشکه الله ښه مغفرت کوونکی (د خطیاتو) ډیر مهربان دی (په انعام د اجر او ثواب سره)

**تفسیر:** یعنی هغه حکمونه چه د احرام په حالت کښی یا د کعبی شریفی د احترام او نورو په متعلق ورکری شوی دی که له هغو ځنی عمداً مخالفت وکړئ! نو وپوهیږئ! چه د الله تعالیٰ عذاب ډیر سخت دی او که په سهوی او نسیان سره تقصیر درځنی وشی نو په کفاره او نورو سره ئی تلافی وکړئ! بیشکه چه الله جل جلاله لوی ښونکی او مهربان دی.

مَّا عَلَى ٱلرَّسُولِ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُۗ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا تُبۡدُونَ وَمَا تَكۡتُمُونَ ﴿۹۹﴾

نشته په غاړه (په ذمه) د رسول زما مگر رسونه (د پیغام) ده او الله عالم دی په هغه شی (هم) چه ښکاره کوئ ئی تاسی او په هغه شی (هم) چه پټوئ ئی تاسی

**تفسیر:** رسول الله علیه الصلوٰة والسلام د الله تعالیٰ د قانون په ابلاغ سره خپل فرض اداء کړ او د حق تعالیٰ حجت په گردو (تولو) بندگانو تمام شوی دی. اوس هر څه او هر هغه عمل چه په

ظاهر او باطن کښې وکړئ! الله تعالیٰ ته معلوم دی د حساب او جزاء په وخت کښې به یوه یوه ذره هم ستاسې په مخ کښې ښکاره او در ایښوده کیږي.

قُلْ لَّا يَسْتَوِي الْخَبِيْثُ وَالطَّيِّبُ وَلَوْ اَعْجَبَكَ كَثْرَةُ الْخَبِيْثِ ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ يٰٓاُولِي الْاَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۱۰۰﴾

ووایه (ای محمده دوی ته) نه برابریږی خبیث (ناپاک) او طیب (پاک) اگر که ښه درښکاره شي تاته ډیروالی د خبیث (ناپاکه)، نو ووېریږئ تاسی له الله ای خاوندانو د (صافو) عقلونو له پاره د دی چه تاسی نجات ومومئ.

**تفسیر:** په پخوانی رکوع کښې ئی فرمایلی ؤ چه (طیبات) مه حراموئ! بلکه له هغو څخنی په اعتدال سره متمتع شئ! د دی مضمون د تکمیل څخه وروسته د خمر او د نورو ناولو او خبیثو شیانو حرمت ئی بیان وفرمایه په دغه سلسله کښې د محرم ښکار هم وګنئ! د محرم په مناسبت د څو نورو ضمنی شیانو له بیانولو څخه وروسته اوس تنبیه فرمائی چه طیب او خبیث یو شان نه دی (او بیخی بد له ښو سره نه برابریږی یعنی حرام او حلال، ناپاک او پاک کره او ناکره په اموالو کښې او هم داسی طالح او صالح، کافر او مسلم، کاذب او صادق په اشخاصو کښې نه دی برابر بلکه دغه حکم عام دی او په هر څه کښې جاری کیږی) لږ شي چه طیب او حلال وی له ډیرو خبیثو او حرامو شیانو څخه ښه او بهتر دی عقلمن ته لازم دی چه همیشه طیب او حلال شي اختیار کړی! او د خرابو شیانو په لوری له سره ونه ګوری! اګر که ډیر زیات او خورا (ډیر) ښه هم ښکاره شي.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَسْئَلُوْا عَنْ اَشْيَآءَ اِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ ۚ وَاِنْ تَسْئَلُوْا عَنْهَا حِيْنَ يُنَزَّلُ الْقُرْاٰنُ تُبْدَ لَكُمْ ۭ عَفَا اللّٰهُ عَنْهَا ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿۱۰۱﴾

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو!) مه کوئ تاسی پوښتنې له (هغو) شیانو که ښکاره کړ شي تاسی ته (ځواب د هغو) (نو) خپه به کړی تاسی (هغه ځواب) او که پوښتنې وکړئ تاسی له (حاله) د هغو

«شیانو» په داسي وخت کښې چه نازل کاوه شي قرآن (یعني وحی راځي نو) ښکاره به کړی شي تاسي ته عفوه کړی ده الله له هغو (تیرو پوښتنو) او الله ښه ښښونکی (د خطیاتو) ډیر تحمل والا دی (په تاخیر د عقوبت له پاره د انابت)

**تفسیر:** د پخوانیو دوو رکوع‌ګانو حاصل په دیني احکامو کښې له مبالغې او تساهل ځنې امتناع وه. یعنې هغه «طیبات» په خپلو ځانونو مه حراموئ! چه د الله تعالیٰ له خوا تاسي ته حلال کړی شوی دی او له هغو شیانو څخه چه خبیث او حرام دی (اعم له دی چه په دائمي طور سره وی یا په خاصو وختونو کښې)، په پوره ډول (طریقه) اجتناب وکړئ! په دی آیتونو کښې تنبیه فرمایي چه هغو شیانو په متعلق فضول، چټی (بیکاره) او له موضوع څخه لری سوالونه مه کوئ، ! چه په هغو کښې شارع تصریحاً څه شی نه دی بیان کړی همغسي چه د تحلیل او تحریم په سلسله کښې د شارع بیان د هدایت او بصیرت موجب دی د هغه سکوت هم د رحمت او سهولت سبب دی. هر هغه شی چه الله تعالیٰ په خپل حکمت او عدل سره حلال یا حرام فرمایلی دی همغه حلال یا حرام شوی دی. او له هغه شي څخه ئې چه سکوت فرمایلی دی په هغه کښې توسع او پراختیا شته!، مجتهدانو ته د اجتهاد موقع پاتي او د هغه په فعل او ترک کښې عامل آزاد دی، اوس که د داسي شیانو په نسبت خامخا څیړنه (کتنه) او پلټنه (تحقیق) وشي او د مباحثي او سوال او ځواب ورونه پرانیستل شي په دغسي حال کښې چه د قرآن شریف د نزول سلسله جاري ده او د تشریع باب مفتوح دی نو ډیر امکان لری چه د ډیرو پوښتنو په ځواب کښې ځنې داسي احکام هم نازل شي چه د هغو له نزول څخه وروسته تاسي ته د ازادی او اجتهاد ځای پاتي نشي، بیا به دا د ډیر شرم ځای وی هر هغه شی چه تاسي په خپله غوښتي دی د هغه په تعمیل کښې په مشکلاتو اخته شئ! له سنت الله څخه دا معلومه ده په هره معامله کښې چه ډیری پوښتني او څیړنی (تحیق) وشي او خامخا شقوق او احتمالات پکښې ولټول شي نو په هغه کښې تشدید او سختي لا زیاتیږی. ځکه چه له داسي پوښتنو څخه دا ظاهریږی چه ګواکې سائلین په خپلو نفسونو داده او مطمئن دی او د هغه حکم ادا کولو ته بیخي حاضر او تیار دی، نو دا قسم دعوی چه د بنده د ضعف او افتقار سره هیڅ مناسبت نه لری هغه د دی خبری وړ (لائق) او مستحق ګرځوی چه د الله تعالیٰ له لوری په هغه حکم کښې څه تشدید وشي او په هره اندازه سره چه بنده خپل لیاقت او قابلیت ښکاره کړی سم له هغه سره د الله تعالیٰ امتحان ورباندی هم سختیږی لکه چه د بني اسرائیلو د«ذبح البقرة» په قصه کښې هم داسي وشو. په حدیث کښې دی چه «نبی کریم صلی الله علیه وسلم» ارشاد وفرمایه چه «ای خلقو الله تعالیٰ پر تاسي حج فرض کړی دی» یوه سړی پوښتنه وکړه «ایا په هر کال کښې یا رسول الله صلی الله علیه وسلم!» ویی فرمایل « که ماویلی وی (هو!) نو هر کال به واجبیده او بیا به تاسي د هغه په اداء نه قادریدی. په هر هغه شي کښې چه زه تاسي آزاد پریږدم تاسي هم له ما ځنې پوښتني مه کوئ» په یوه حدیث کښې

ئې فرمايلي «په مسلمانانو کښې هغه سړی لوی مجرم دی چه د ده په پوښتنې داسې يو شی حرام شوی وی چه هغه حرام نه و». په هر حال دا آيت د شرعي احکامو په نسبت د داسې بې‌ضرورته او له موضوع څخه لرې سوالونو ورونه بندوی. پاتې شوه دا خبره چه په ځينو احاديثو کښې مذکور ده چه «څو تنو سريو د نبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه چه د جزئي واقعاتو په نسبت لغو او چتې (بيکاره) سوالونه کول په دی آيت کښې له هغو ځنې ممانعت کړی شوی دی». نو هغه هم زمونږ د دی تقرير څخه مخالف نه دی. مونږ په ﴿ لَا تَسْـَٔلُوا۟ عَنْ أَشْيَآءَ ﴾ کښې اشياء عام اخلو چه واقعاتو او احکامو دواړو ته شامل دی او په ﴿ تَسُؤْكُمْ ﴾ کښې هم چه د بد لګيدلو په معنی ده هم تعميم واخيستل شی حاصل به ئې داسې شی چه نه د احکامو په باب کښې فضولي او چتې (بيکاره) پوښتنې وکړئ او نه د واقعاتو په سلسله کښې. ځکه ممکن دی هغه ځواب چه تاسې ته درکړ شی هغه ناوړ (ګنده) او ناګوار ولوېږي، مثلاً که کوم سخت حکم راشي يا کوم قيد زيات شي. يا د داسې کومې واقعې اظهار وشي چه په هغې کښې ستاسې فضيحت وی يا پر چتې (بيکاره) پوښتنې ترټنه او توبيخ وکړ شي دا ټول احتمالات تر ﴿ تَسُؤْكُمْ ﴾ لاندې داخل دي. باقي د ضروري خبرې پوښتنه يا د هسې شبهې رفع کول چه ناشي عن الدليل وی هيڅ مضايقه نه لري. ﴿ عَفَا ٱللَّهُ عَنْهَا ﴾ عفوه کړی ده الله له هغو تيرو پوښتنو د اشياؤ خو وروسته له دی نه نوری داسې چتې (بيکاره) پوښتنې مه کوئ) له دی نه خو يا مراد دا دی چه له دی شيانو څخه تير شو. يعنې کله چه الله تعالیٰ د هغو په نسبت څه حکم نه دی راکړی نو انسان په هغو کښې آزاد دی او الله تعالیٰ به د داسې شيانو پوښتنې نه کوی لکه چه له دی ځنې د اصولو ځينې عالمانو دا مسئله استخراج کړی ده چه په ګردو (ټولو) اشياؤ کښې «اباحت» اصل دی يا دا چه له هغو فضولو سؤالاتو څخه چه پخوا کړی شوی دی الله تعالیٰ تير شوی دی خو وروسته له دی نه احتياط وکړئ!

---

قَدْ سَأَلَهَا قَوْمٌ مِّن قَبْلِكُمْ ثُمَّ أَصْبَحُوا۟ بِهَا كَٰفِرِينَ ﴿١٠٢﴾

---

په تحقيق پوښتنه کړی وه د داسې خبرو يو قوم پخوا له تاسې بيا وګرځيدل پرې کافران (منکران)

---

**تفسير:** (لکه چه ثموديانو صالح عليه السلام ته ويلي وو چه له کاڼي څخه مونږ ته اوښه راوباسه او لکه بني اسرائيلو چه له (اشموئيل) ځنې باچا غوښتی ؤ له پاره د غزا کولو کله چه (طالوت) باچا شو نو بيا ئې غزا ونه کړه او د عيسیٰ عليه السلام نه د ده قوم خنچه طلب کړی وه) په صحيح حديث کښې دی چه پخوانی قومونه د سوالو له کثرته او د خپلو انبياؤ عليهم السلام سره د اختلاف له سببه هلاک شول.

مَا جَعَلَ اللّٰهُ مِنْ بَحِيْرَةٍ وَّلَا سَآئِبَةٍ وَّلَا وَصِيْلَةٍ وَّلَا حَامٍ وَّلٰكِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَاَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۱۰۳﴾

نه دی روا کړی الله له هیڅ بحیری او نه سائبی او نه وصیلی او نه حام ولیکن هغه کسان چه کافران شوی دی تړی دوی پر الله دروغ (بهتان) او ډیر له دوی څخنی نه پوهیږی (په حق او باطل).

**تفسیر:** بحیره ـ سائبه ـ وصیله او حام دا ګردی (ټولی) د جاهلیت د زمانی له رسومو او شعائرو سره تعلق لری. مفسرینو د دغو په تفسیر کښی ډیر اختلاف سره کړی دی. ممکن دی له دوی څخنی د هر لفظ اطلاق په مختلفو صورتونو باندی وشی. مونږ یواځی د سعید بن المسیب رحمة الله علیه تفسیر له صحیح بخاری رحمة الله علیه څخه نقلوو «بحیره» هغه ساکښ (ذی روح) ؤ چه شودی ئی د بتانو په نامه کیدی او له هغو څخنی بل هیچا فایده نه آخیستله. «سائبه» هغه ساکښ و چه د بتانو په نامه لکه د هندوانو «ساند» خوشی کیده. «وصیله» هغه ښځه اوښه وه چه پرله پسی ئی څو داسی جونګی (بچی) څیږولی وی چه په منځ کښی به ئی یو نر جونګی (بچی) نه ؤ او بیا به د بتانو په نامه خوشی ګرځیده. «حام» هغه نر اوښ و چه پر خاصو څو اوښو باندی به ختلی ؤ او بیا به خوشی کیده علاوه پر دی چه دا شیان د شرک د شعائرو څخنی وو د هغو ساکښانو (ذی روحو) غوښی او شودی او سپرلی (سورلی) او نور شیان چه الله جل جلاله حلال کړی دی او ښائی چه خلق له هغو څخنی منتفع شی پر هغو باندی د حل او حرمت قیود له خپل لوری ایښودل، ګواکی د خپل ځان له پاره د تشریع منصب تجویز کولو په شان ؤ. د دغو مشرکینو بل لوی ظلم دا ؤ چه د خپل شرک رسوم ئی د الله تعالیٰ د خوښی او قربت ذریعه ګڼله، نو دغه ځواب داسی ورکړ شو چه الله تعالیٰ دا رسوم نه دی مقرر کړی، د دوی مشرانو په الله تعالیٰ دا بهتان تړلی ؤ چه اکثرو بی عقلانو او عامو خلقو هم هغه منلی ؤ الغرض دلته ئ تنبیه فرمایلی ده، همغسی چه فضول او بیکاره سوالونه او په شرعی احکامو کښی تشدید او سختی پیښول جرم دی، له هغه څخنی زیات لا دغه جرم دی چه بی د شارع له حکمه یواځی په خپلو آراؤ او اهواؤ سره حلالو او د حرامو تجویزونه وکړی.

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا اِلٰى مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَاِلَى الرَّسُوْلِ قَالُوْا حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا ؕ اَوَلَوْ كَانَ اٰبَآؤُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ شَيْئًا وَّلَا يَهْتَدُوْنَ ﴿۱۰۴﴾

او کله چه وویل شی دوی ته چه راشئ تاسی هغه شی ته چه نازل کړی

(رالیږلی) دی الله او (راشیٔ) په لوری (د حکم) د رسول (د الله) نو وائی دوی بس دی موږ ته هغه دین چه موندلی دی موږ پر هغه (دین) پلرونه خپل آیا (بس دی دوی ته) اگر که وو پلرونه د دوی چه نه به پوهیدل په هیڅ شی او نه به ئی لاره موندله (حق ته).

**تفسیر:** د جاهلانو له گردو (تولو) څنی لوی حجت هم دغه دی «هغه کار چه موږ ته له پلرونو او نیکه‌گانو څنی راپاتی دی، آیا موږ له هغه څنی څرنگه مخالفت وکړو؟» نو دوی ته وروښودل شول «که ستاسی اسلاف له بی‌عقلی یا گمراهی د هلاکت په ژوره کنده کښی لویدلی وی، نو آیا تاسی هم د همغو پر قدم (پله) باندی دروميږ؟» حضرت شاه صاحب لیکی «که د پلار حال معلوم وی، چه د حق تابع او د علم خاوند ؤ نو د هغه لاره دی ونیسی! که نه (د پلار متابعت) عبث دی.» یعنی کیف ماالتفق د ړندو په شان تقلید جائز نه دی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ عَلَيۡكُمۡ أَنفُسَكُمۡۖ لَا يَضُرُّكُم مَّن ضَلَّ إِذَا ٱهۡتَدَيۡتُمۡۚ إِلَى ٱللَّهِ مَرۡجِعُكُمۡ جَمِيعٗا فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ۝١٠٥

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو!) لازمه ونیسئ پر ځانونو (اصلاح او ساتنه د) ځانونو او نفسونو خپلو هیڅ زیان نه رسوی تاسی ته (گمراهی د) هغه چا چه گمراه شوی دی کله چه په سمه صافه لاره اوسئ تاسی (خاص) طرف د الله ته بیرته ورتله ستاسی دی د تولو، نو خبر به کړی (الله په قیامت کښی) تاسی په هغو عملونو چه وئ تاسی چه کول به مو (په دنیا کښی)

**تفسیر:** یعنی که کفار د خپلو پلرونو او نیکه‌گانو له چتی (بیکاره) تقلیده، له دومره پند او پوهی سره هم نه راگرځی، نو تاسی مه غمجن کیږئ! زیات له دی نه خپل ځان مه ربړوئ (تکلیف کوئ) د بل چا له گمراهی څنی تاسی ته هیڅ زیان نه دررسیږی! په دی شرط چه تاسی پر سمه لاره تگ وکړئ! سمه لاره هم دا ده چه انسان ایمان او تقوىٰ غوره کړی او له بدی څخه خپل ځان وژغوری (وساتی)، او د نورو د اصلاح او ژغورلو (بچ کولو) له پاره امکانی زیار (محنت) وکاږی او کوښښ وکړی، که بیا هم خلق له بدو کارونو څخه لاس وانخلی نو هغه هیڅ زیان نه لری. که له دی آیت څنی داسی یو مطلب واخیست شی «کله چه یو سړی خپل لمنځونه او روژی او نور واجبات په ښه ډول (طریقه) سره اداء کړی، نو د «**امر بالمعروف نهی عن المنکر**» له ترکه ده ته هیڅ یو تاوان نه رسیږی بیخی غلط دی.» د «اهتداء» لفظ

«**امر بالمعروف**» او د هدایت نورو گردو (تولو) وظائفو لره شامل دی. او له سره نه ښائی چه یو مسلمان سری داسی ووائی «د بل چا گمراهی ماته ضرر نه رسوی» ځکه چه دغه خو په خپله ښه خبره نه ده چه سړی د بل له منکره مانع نشی.

که تا لید چه راغی پرونـد په کوهی باندی
چوپ گناه ده غږ پری وکړه لاله وراندی

اگر که په دی آیت کښی د خبری مخ د مسلمانانو په لوری دی، لیکن په هغه سره د هغو کفارو تنبیه هم مقصود ده چه د خپلو پلرونو او نیکونو د حق له لاری ځنی کاږه شوی هم وی نو بیا هم تاسی عمداً د هغو پیروی کوئ!؟ ولی خپل ځانونه په دغه چتی (بیکاره) متابعت سره د هلاکت په کنده کښی اچوئ!؟ اوس هغوی پریږدئ ـ او د خپلو عاقبتونو په فکر کښی ولویږئ ـ او په خپلو گټو او نقصانونو په ښه شان وپوهیږئ! که پلرونه او نیکونه گمراهان وی ـ او د دوی اولاده پر خلاف د هغوی پر سمه لاره تگ وکړی ـ نو د پلار او نیکه نه داسی مخالفت اولادی ته له سره مضر نه دی ـ داسی خیالات بیخی ناپوهی او جهالت دی چه «په هیڅ یوه حال کښی اولادی ته نه ښائی چه د پلار او نیکه له طریقی څخه خپل قدم چپ او مخالف کیږدی، که نه پوزه به ئی پری شی؟». عقلمنو لره ښائی چه د انجام خیال ولری! ځکه چه وراندی او وروسته د الله تعالیٰ په مخ کښی تول سره یو ځای وراندی کیدونکی دی او هلته به له هر چاسره خپل عمل مل وی او خپله جزا به ومومی او خپل کرلی به ریبی. ﴿ إِلَى اللَّهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا ﴾ الآیة ـ خاص طرف د الله ته بیرته ورتله ستاسی دی د تولو، نو خبر به کړی الله په قیامت کښی تاسی په هغو عملونو چه وئ تاسی چه کول به مو) یعنی هغه چه گمراه پاتی شوی او هغه چه لاره ئی موندلی د هغو تولو نیک او بد عملونه او نتائج به هغو ته ورمخامخ کیږی.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ شَهَٰدَةُ بَيۡنِكُمۡ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ ٱلۡمَوۡتُ حِينَ ٱلۡوَصِيَّةِ ٱثۡنَانِ
ذَوَا عَدۡلٖ مِّنكُمۡ أَوۡ ءَاخَرَانِ مِنۡ غَيۡرِكُمۡ إِنۡ أَنتُمۡ ضَرَبۡتُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَأَصَٰبَتۡكُم
مُّصِيبَةُ ٱلۡمَوۡتِۚ تَحۡبِسُونَهُمَا مِنۢ بَعۡدِ ٱلصَّلَوٰةِ فَيُقۡسِمَانِ بِٱللَّهِ إِنِ ٱرۡتَبۡتُمۡ لَا نَشۡتَرِي
بِهِۦ ثَمَنٗا وَلَوۡ كَانَ ذَا قُرۡبَىٰ وَلَا نَكۡتُمُ شَهَٰدَةَ ٱللَّهِ إِنَّآ إِذٗا لَّمِنَ ٱلۡأٓثِمِينَ ﴿١٠٦﴾

---

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو!) شهادت په منځ

ستاسي کښې کله چه حاضر شي يوه د ستاسي ته (علامې د) مرګ په وخت
د وصيت کښې (شهادت) د دوو تنو دی چه دواړه خاوندان د عدل (انصاف)
وی له تاسي (مسلمانانو) څخه يا دوه تنه نور شاهدان غير له تاسي
(مسلمانانو يعنې د غير مسلم) که تاسي سفر مو کاوه په ځمکه کښې بيا
ورسيږی تاسي ته مصيبت د مرګ (هسې دوه تنه نور) چه بندوئ به تاسي دغه
دواړه وروسته له لمانځه (د مازيګر) نو قسم دی وکړی دواړه په الله که شکمن
يئ تاسي (په شهادت د دوی کښې او وائی به) نه بدلوو په دی قسم سره مال
اګر که وی دا (مشهود له) خاوند د خپلوی (هم) او نه پټوو مونږ شاهدی د
الله بيشکه مونږ په وخت د پټولو د شهادت کښې خامخا له ګناهګارانو به يو.

---

**تفسير:** يعنې (شاهدان درول په وخت د ځنکدن په وصيت کښې دوه تنه دی چه دواړه خاوندان د عدل او انصاف له خپلوانو ستاسي يا له نورو مسلمانانو وی. او) دا بهتر دی. باقي که دوه تنه نه وی يا معتبر نه وی، بيا هم هغه «وصی» درولی شی. او له شاهد ځنې دلته مراد «وصی» دی د هغه اقرار او اظهار ئې په شاهدی سره تعبير وفرمايه (اثنان په اعتبار د شهادت محذوفه سره خبردی). ﴿ مِنۢ بَعۡدِ ٱلصَّلَوٰةِ ﴾ يعنې وروسته د مازيګر له لمانځه څخه چه هغه د اجتماع او قبول وخت دی. ښائې چه دوی وويريږی او په دروغو سره قسم ونه خوری. يا پس له بل کوم لمانځه يا «وصی» چه پر هر مذهب وی د هغه د لمانځه پسې. ﴿ إِنَّآ إِذٗا لَّمِنَ ٱلۡأٓثِمِينَ ﴾ بيشکه مونږ په وخت د پټولو د شهادت کښې خامخا له ګناهګارانو به يو) يعنې کله چه د تولو ورتګ الله جل جلاله ته دی نو له ورتګه پخوا ښائې چه ګرد (تول) کارونه برابر کړل شی! چه له هغو ځنې يو ضروری او اهم کار وصيت او د هغه متعلقات دی. په دی آيتونو کښې ئې د وصيت ديری ښې طريقې تلقين فرمايلې دی يعنې که مسلمان د مر کيدلو په وخت کښې خپل مال او نور شيان بل چاته حواله کړی نو دا بهتره ده چه دوه معتبره مسلمانان دی پری شاهدان ونيسی ـ که مسلمانان پيدا نشی. لکه چه په سفر يا نورو مواقعو کښې داسې اتفاق ولويږی نو دوه کافران دی« وصی» ودرول شی ـ بيا که وارثانو ته شبه ولويږی چه دغو کسانو به څه مال پټ کړی وی او وارث پری دعوی وکړی. او د دغې دعوی له پاره شاهدان ونه لری نو هغه دواړه کسان دی قسم وخوری چه مونږ هيڅ نه دی پټ کړی او مونږ د کومې طمعې او قرابت له سببه دروغ نه شو ويلی او که ئې ووايو نو ګنهګار به يو.

---

فَإِنۡ عُثِرَ عَلَىٰٓ أَنَّهُمَا ٱسۡتَحَقَّآ إِثۡمٗا فَـَٔاخَرَانِ يَقُومَانِ مَقَامَهُمَا
مِنَ ٱلَّذِينَ ٱسۡتَحَقَّ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَوۡلَيَٰنِ فَيُقۡسِمَانِ بِٱللَّهِ

لَشَهَادَتُنَآ أَحَقُّ مِنۡ شَهَادَتِهِمَا وَمَا ٱعۡتَدَيۡنَآ إِنَّآ إِذٗا لَّمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ۝١٠٧

نو که اطلاع حاصله کړه شوه پر دی چه بیشکه دا دواړه مستحق شوی دی د ګناه (حقی خبری د پټولو په سبب) نو نور دوه شاهدان دی ودریږی په ځان د دی دواړو (حلف ته او که یو تن وی هم څه مضایقه نه لری) له هغو کسانو چه ثابت شوی دی پر هغو (وصیت یا شاهدی دغسی دوه تنه نور چه) قریبان وی (میت ته یا غوره وی) نو قسم دی وکړی دا دواړه په الله چه خامخا شاهدی زمونږ ښه حقه (او رښتیا) ده له شاهدی د هغو (پرومبنیو) څخه او څه تجاوز مو نه دی کړی بیشکه مونږ په دغه وخت (د تجاوز) کښی خامخا له ظالمانو به یو.

**تفسیر:** یعنی که له قرائنو او آثارو ځنی د وصیانو کوم قسم (لوړه) دروغ ښکاره شی او دوی د شرعی شهادت په ذریعه خپل صداقت ثابت نشی کړی، نو د میت وارثانو ته دی قسم ورکړی شی چه دوی ته د وصیانو د دی دعوی د واقعیت هیڅ علم او خبر نشته او دا چه دغه شاهدی د وصیانو له شهادت ځنی زیات احق بالقبول (یعنی د قبول دپاره ډیر مستحق دی) د دی آیتونو شان نزول دا دی یو مسلمان چه (بدیل) نومیده له دوو سریو (تمیم) او (عدی) سره «چه په هغه وخت کښی نصرانیان وو» د تجارت په قصد (شام) ته رهی (روان) شول، کله چه (شام) ته ورسیدل (بدیل) رنځور شو او د خپل مال فهرست (نوملیک) ئی ولیکلو او په خپلو اسبابونو کښی ئی کېښود او د هغه نوملیک اطلاع ئی خپلو دغو دواړو ملګرو ته ور نه کړه، کله چه مرض ئی شدت وکړ نو ده خپلو دغو دواړو نصرانی ملګرو ته وصیت وکړ چه زما دا ټول اسباب زما وارثانو ته ورسوئ! لکه چه دوی هغه ګرد (ټول) اسبابونه له ځانه سره یوووړل او د ده وارثانو ته ئی وروسپارل، مګر یو د سپینو زرو جام ئی (چه پری د سرو زرو ملمع او نقش او سینګار ؤ) تری ستون کړ، کله چه د وارثانو په لاس کښی هغه فهرست (چه د اسبابونو په منځ کښی وو) هم ولوید دوی له هغو وصیانو ځنی پوښتنه وکړه چه «آیا مری د دی مالونو له منځه څه مال خرڅ کړی هم دی؟ یا ئی ناروغی ډیره ځندیدلی (اوږده شوے) او پری دارو درمل شوی؟ او څه مال ئی په معالجه کښی لګیدلی دی؟» دوی د دی دواړو سوالو ځواب په نفی سره ورکړ. آخر دا معامله د حضرت فخر کائنات رسول الله صلی الله علیه وسلم په حضور کښی تقدیم شوه، څرنګه چه له وارثانو سره شاهدان نه وو نو هغو دی دواړو نصرانیانو ته په دی الفاظو سره قسم ورکړ، چه «مونږ د هغه مړی په مال کښی هیڅ ډول (طریقه) خیانت نه دی کړی او نه مو څه شی له هغه څخه پټ کړی دی،» نو د دی قسم خوړلو له امله (وجی) د دغو وصیانو په ګټه فیصله وکړی شوه څو موده وروسته دا خبره څرګنده شوه چی دوی هغه جام په یو زرګر باندی په مکه معظمه کښی خرڅ کړی (پلوری) دی د دغی خبری پوښتنه چی له دوی ځنی وشوه نو دوی وویل

چه «هغه مو له (بدیل) څخه په بیع اخیستی (پیرودلی) ؤ» کله چه د پیرودلو شاهد نه ؤ موجود نو ځکه مو په هغه باندی په خپل اول اظهار کښی اقرار ونه کړ څو زمونږ تکذیب ونه کړ شی،» د «بدیل» وارثان بیا د رسول الله مبارک په حضور مشرف شول او خپله دعوی ئی مرافعه کړه، دا ځلی د اول صورت په عکس وصیان د شراء «د پیرودلو» مدعیان وو او وارثانو له هغه ځنی انکار درلود (لرلو)۔ او د شاهدانو د نشتوالی له سببه د وارثانو له منځه هغو دوو کسانو چه له میت سره ئی ډیر نژدی قرابت درلود (لرلو) قسم یاد کړ چه هغه جام د هغه میت مملوک و. او دی دواړو نصرانیانو په دروغو سره قسم یاد کړی دی. په پای (آخر) کښی هغو نصرانیانو همغه قیمت (یو زر درهمه) د (بدیل) وارثانو ته ورکړی چه له هغه زرګر څخه ئی د هغه جام په بدل کښی اخیستی وی.

---

ذٰلِكَ أَدْنَىٰٓ أَن يَأْتُوا۟ بِٱلشَّهَـٰدَةِ عَلَىٰ وَجْهِهَآ أَوْ يَخَافُوٓا۟ أَن تُرَدَّ أَيْمَـٰنٌۢ بَعْدَ أَيْمَـٰنِهِمْ ۗ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَٱسْمَعُوا۟ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَـٰسِقِينَ ﴿١٠٨﴾

---

دا (تیر حکم چه رد کول د قسم دی پر وارثانو) ډیر نژدی دی دی ته چه راتله وکړی دا «شاهدان» په شاهدی سره په هغه شان چه حق دی د دی او (نژدی دی دی ته) چه وویریږی دوی له دی نه چه بیرته به رد کړل شی قسمونه (په ورثه ؤ) پس له قسمونو د دغو (وصیانو) او وویریږئ تاسی له الله (او په دروغو قسم مکوئ!) او واورئ تاسی (د الله احکام) د زړه په غوږونو سره) او الله نه ښیی سمه صافه لاره (د خیر او د جنت) قوم فاسقانو ته.

---

**تفسیر:** یعنی که وارثانو ته شبهه پیدا شی نو د قسم ورکولو حکم ورته شته. څو د قسم له ویری اول دروغ ونه وائی بیا که د دوی خبری دروغ ښکاره شی نو ورته دی قسم وخوری، دا هم د دی له امله (وجی) چه دوی هم په قسم کښی (تکی) ونه کړی او وپوهیږی چه هم دا قسم پر مونږ هم اوړی. کذا فی «موضح القرآن». ﴿وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ﴾ الآیة ۔ او وویریږئ تاسی له الله ځکه چه) د الله تعالیٰ د نافرمانی کوونکو انجام رسوائی او ذلت دی او دوی د حقیقی بری او کامیابی مخ له سره نشی کتلی.

---

يَوْمَ يَجْمَعُ ٱللَّهُ ٱلرُّسُلَ فَيَقُولُ مَاذَآ أُجِبْتُمْ ۖ

(یاد کړئ) هغه ورځ چه جمع به کړی الله تول رسولان پس وبه وائی (الله رسولانو ته) چه څه ځواب درکړی شوی و تاسی ته (له طرفه د امتیانو ستاسی په دنیا کښی چه بلل تاسی دوی توحید ته)

**تفسیر:** دغه پوښتنه به محشر کښی د ګردو (تولو) په مخ کښی له انبیاؤ علیهم السلام څخنی کیږی یعنی لکه چه په دنیا کښی تاسی د حق تعالیٰ له حق پیغام سره خلقو ته تللی وئ نو دوی ستاسی د هغه دعوت ځواب څرنګه درکړی دی او تر کومه ځایه پوری د دعوت الله اجابت ته حاضر شوی دی؟. په پخوانی رکوع کښی ئی دا راښوولی وه چه د الله تعالیٰ په حضور کښی پخوا له ورتګه د وصیت او نورو په ذریعه تاسی د دنیوی امورو سرشته او انتظام برابر کړئ اوس دا فرمائی چه دآخرت سوال او ځواب ته ځانونه تیار کړئ!

قَالُوا لَا عِلْمَ لَنَا إِنَّكَ أَنتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ ﴿١٠٩﴾

وبه وائی (ګرد (تول) رسولان الله ته) نشته هیڅ علم مونږ ته (ستا د علم په مخکښی یا الله!) بیشکه ته چه ئی هم ته ئی لوی عالم په غیبو (اسرارو هم نو بی له ویلو زمونږ هم د دوی منل او نه منل درښکاره دی)

**تفسیر:** د محشر په هولناکه ورځ کښی چه د قهار الله جلالی شان په خپل انتهائی ظهور سره وی د لویانو او اکابرو فکر او هوښ به په ځای نه وی د اولوالعزمو انبیاؤ په ژبو به هم «نفسی» «نفسی» الفاظ جاری وی په دغه وخت کښی به د انتهائی خوف او خشیت له سببه د ( حق تعالیٰ) د سوال ځواب په «لاعلم لنا ـ نشته هیڅ پوهه مونږ ته» سره ورکوی. او له دی نه ماسوا بل څه نشی ویلی. بیا کله چه د بنیادمانو د فخر زمونږ د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په برکت پر ګردو (تولو) د الله تعالیٰ د لطف او رحمت کتنه کیږی، نو وروسته له هغه د عرض کولو لږ څه جرئت د نورو پیغمبرانو له پاره هم پیدا کیږی له حسن او مجاهد او نورو (رحمهم الله تعالیٰ) څخنی هم داسی منقول دی لیکن د ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه په نزد د «لاعلم لنا» مطلب دا دی چه ای خدایه! ستا د کامل او محیط علم په مقابل کښی زمونږ هیڅ پوهه او علم نشته ګویا دا الفاظ د «خدای سره د ادب» په دول (طریقه) وائی د ابن جریج رحمة الله علیه په نزد د «لاعلم لنا» څخه دا مراد دی چه مونږ ته نه دی معلوم چه وروسته له مونږ څخنی هغو څه کړی! او څه ئی نه دی کړی؟ ځکه چه مونږ یواځی د دوی په هغو افعالو او احوالو خبریدلو چه دوی زمونږ په مخکښی ظاهراً کول، د بواطنو او سرائرو علوم خو یواځی له تا علام‌الغیوب سره

دی. د هم دی سورت په راتلونکی (۱٦) رکوع کښې د حضرت مسیح علیه السلام له ژبې نه هغه ځواب چه په (۱۱۷) آیت کښې نقل شوی دی «وکنت علیهم شهیدا» دا وروستی معنی تائیدوی او په صحیح حدیث کښې دی کله چه په حوض باندی د ځینو په باره کښې زمونږ رسول کریم صلی الله علیه وسلم داسې وفرمائی چه «هؤلاء اصحابی!» نو داسې ځواب به اوری «لا تدری ما احدثوا بعدک؟» نه ئې خبر چه له تا څخه وروسته دوی څه حرکات کړی دی.

**تنبیه:** غالباً دغه د «المآئدة» (۱۱۰) آیت د هم دی (۱۵) رکوع (چه له دی کرښې څخه (۳) کرښې وروسته شروع کیږی د راتلونکی (۱٦) رکوع د (۷) کرښې څخه شروع مومی) تمهید دی رومبی خپل لوی احسانات ور په یادوی او ورسته هغه پوښتنې کیږی چه په هم دغه (۱۵) رکوع کښې راځی.

إِذْ قَالَ اللَّهُ يَٰعِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ ٱذْكُرْ نِعْمَتِى عَلَيْكَ وَعَلَىٰ وَٰلِدَتِكَ

(یاد کړئ) هغه وخت چه وبه فرمائی الله ای عیسٰی زوی د مریمې یاد کړه احسان زما پر تا او په مور ستا (چه غوره کړی می وه پر ښځو د زمانې خپلی)

**تفسیر:** اول پر اولاد احسان کول من وجه په مور باندی احسان دی، هغو نورو ظالمو خلقو چه پر (حضرت صدیقې بی‌بی مریمې) تهمتونه کول حق تعالیٰ د دی د برائت او نزاهت له پاره حضرت عیسٰی علیه السلام برهان مبین وګرځاوه او د مسیح علیه السلام له تولده پخوا او وروسته ئې حضرت بی‌بی مریمې ته عجیبې او غریبې نښې ورښکاره کړی چه ګردی (تولی) د دوی د تقویې او تسکین باعث شوی دی، دغه احسانات بلاواسطه پر دی باندی وو.

إِذْ أَيَّدتُّكَ بِرُوحِ ٱلْقُدُسِ تُكَلِّمُ ٱلنَّاسَ فِى ٱلْمَهْدِ وَكَهْلًا ۖ وَإِذْ عَلَّمْتُكَ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ ۖ وَإِذْ تَخْلُقُ مِنَ ٱلطِّينِ كَهَيْـَٔةِ ٱلطَّيْرِ بِإِذْنِى فَتَنفُخُ فِيهَا فَتَكُونُ طَيْرًۢا بِإِذْنِى ۖ وَتُبْرِئُ ٱلْأَكْمَهَ وَٱلْأَبْرَصَ بِإِذْنِى ۖ وَإِذْ تُخْرِجُ ٱلْمَوْتَىٰ بِإِذْنِى ۖ

کله چه قوت می درکړی ؤ تاته (ای عیسٰی) په روح القدس (جبریل یا انجیل

یا اسم اعظم یا عیسوی روح) سره چه خبری به دی کولی له خلقو سره په مهد (د مور په غیږ یا په ځانګو یا په طفولیت ) کښی او په حال د کهولت (پوره عمر) کښی، او کله چه می درزده کړ تاته کتاب (لیکل) او حکمت (د شرعی احکامو د ژورو خبرو علم) او تورات او انجیل او کله چه جوړه به دی کړله له ختو ځنی په مثل د صورت د مارغه په اذن (حکم) زما پس پوکول به دی په هغه صورت کښی پس شو به هغه (هیئت) مارغه په اذن (حکم) زما او روغول به دی مورزادی ړوند او برګ (پس) په اذن (حکم) زما ، او کله چه راایستل به دی مړی (له قبرونو څخه او ژوندی کول به دی) په اذن (حکم) زما

---

**تفسیر:** «په طفولیت کښی به دی خبری کولی» د دی ذکر په (١٦) جزء د «مریم» د سورت په (٣٠) آیت (٢) رکوع کښی راځی. ﴿ اِنِّیْ عَبْدُ اللّٰهِ اٰتٰىنِیَ الْكِتٰبَ ﴾ الآیة - تعجب دی چه عیسایان د حضرت مسیح علیه السلام د «تکلم فی المهد» هیڅ ذکر نه دی کړی. هو! دا ئی لیکلی دی چه مسیح علیه السلام په دولس کلنی د یهودانو په مخ کښی داسی حکیمانه دلائل او براهین بیان فرمایلی دی چه ګرد (تول) علماء تری عاجز او مبهوت پاتی شوی دی. او سامعینو په شاباس او آفرین ویلو باندی پیل (شروع) وکړ، هسی خو په «روح القدس» سره حسب‌المراتب ذکر د انبیاؤ علیهم السلام بلکه د ځینو مؤمنانو تائید هم کیږی، لیکن حضرت عیسٰی علیه السلام ته چه وجود ئی هم د«جبرئیلیه نفخی» څخه شوی دی کوم خاص قسم فطری مناسبت او تائید حاصل دی چه هغه د انبیاؤ د تفضیل په صدد کښی بیان شوی دی
﴿ تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ مِنْهُمْ مَنْ كَلَّمَ اللّٰهُ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجٰتٍ وَاٰتَيْنَا عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنٰتِ وَاَيَّدْنٰهُ بِرُوْحِ الْقُدُسِ ﴾ (د ٣ جزء ابتداء د البقرة د٢٥٣ آیت ٣٣ رکوع) د «روح القدس» مثل په (عالم الارواح) کښی داسی وګڼئ لکه چه د مادیاتو په عالم کښی کهربائی (برقی) خزانه ده. د دی خزانی مدیر له معینه اصولو سره سم کرنټ (قوه) پیدا کوی او په هغو اشیاؤ کښی چه د برق اثر ورسیږی، دغه کنکشن جوړوی او فوراً لاړ او ساکن مشینونه په ډیر زور او شور سره ګرځوی او چورلوی ئی، که پر کوم رنځور باندی د برقی عملیاتو اجراآت وکړی شی نو په شلو او شوتو اعضاؤ او بیحسه اعصابو کښی د برق له رسیدلو ځنی حس او حرکت پیدا کیږی. په ځینو وختونو کښی د داسی یوه رنځور په حلقوم کښی چه ژبه یی بیخی بنده او له خبرو پاتی وی د برقی قوت په رسیدلو سره د وینا قوت پیدا کیږی تر دی چه ځینی عالی ډاکتران خو داسی دعوی هم کوی (لکه چه فرید وجدی په دائرة المعارف کښی لیکلی دی) چه د هر ډول (طریقه) ناروغتیا علاج په برقی قوی سره کیدی شی کله چه د دی عادی مادی برق «بریښنا» حال داسی دی، تاسی په خپله اندازه وکړئ چه د «عالم الارواح» په برق کښی چه د هغه خزانه «روح القدس» ده څومره قوت او طاقت به وی؟ حق تعالیٰ د حضرت عیسٰی

علیه السلام د مبارک وجود تعلق له «روح القدس» سره تر یوه داسی خاص نوعیت او اصول لاندی ایښی دی چه د هغه تاثیر د روحیت او تجرد په غلبه او د حیات په خاصو آثارو کښی ظاهر شوی دی. په «روح الله» سره ملقب کیدل، په وړوکتوب، ځلمیتوب او زړښت کښی یو شانی خبری کول، د الله تعالیٰ په حکم سره د حیات د افاضی د قبلولو له پاره د خاورین کالبوت تیارول او په کښی باذن الله د حیات روح پوکول، د مأیوس العلاجو ناروغانو بی د عادی اسبابو او وسائلو په کار اچولو باذن الله جوړ او روغ او بی‌عیبه او مفید گرځول حتیٰ د مړی په تش تور کالبوت کښی باذن الله بیا روح اچول، د بنی اسرآئیلو ناپاکی پلمی (تدبیرونه) د الله په امر سره ورانول، او د الله جل جلاله په قدرت پر آسمان ختل او د ده پر طیبه حیات د دومره لوی عمر هیڅ یو اثر نه لویدل او داسی نور دا گرد (تول) آثار د همغه خصوصی تعلق څخه پیدا شوی دی چه الله تعالیٰ په یوه مخصوص نوعیت او اصول د ده او د «روح القدس» په منځ کښی قائم فرمایلی دی. له هر رسول سره د الله تعالیٰ څه امتیازی معاملی وی چه د هغو د عللو او اسرارو احاطه همغه علام الغیوب سره وی هم دغو امتیازاتو ته د علماؤ په اصطلاح «جزئی فضائل» ویل کیږی، له داسی شیانو څخنی کلی فضایل نه ثابتیږی څه چه تری «الوهیت» ثابت شی. په «اذتخلق من الطین» کښی د «خلق» لفظ محض په صوری او حسی لحاظ استعمال کړی شوی دی، که نه حقیقی خالق خو له «احسن الخالقین» څخنی ماسوا بل هیڅوک نه دی. د هم دی له امله (وجی) د «باذنی» تکرار څو څو ځلی راغلی دی او په «آل عمران» کښی د حضرت مسیح علیه السلام له ژبی د «باذن الله» تکرار کړی شوی دی په هر حال هغه خوارق چه په دی آیتونو او د دی نه پخوا په «آل عمران» کښی حضرت مسیح علیه السلام ته منسوب شوی دی له هغو څخنی انکار یا پکښی تحریف یواځی د همغه ملحد کار کیدی شی چه «آیات الله» د خپل شخصی عقل تابع گرځول غواړی. باقی همغه خلق چه د قدرت په قانون نامه سره د «خوارقو او معجزاتو» څخه انکار کوی د هغه ځواب په یوه مستقل مضمون کښی ورکړی شوی دی چه د هغه له مطالعی څخه ان شآء الله د تولو شکونو او شبهاتو ازاله کیدی شی.

---

وَإِذْ كَفَفْتُ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ عَنكَ إِذْ جِئْتَهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنْهُمْ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿١١٠﴾

---

او کله چه می بند کړ (شر د) بنی اسرائیل له تانه (ای عیسیٰ چه ستا د قتل اختیار ئی کړی ؤ) کله چه راوړی ؤ تا دوی ته واضح دلائل نو وویل هغو کسانو چه کافران شوی وو له دوی څخنی چه نه دی دغه معجزی ستا مگر سحر دی ښکاره (هر چاته)

**تفسیر:** معجزاتو او فوق العاده تصرفاتو ته به ئی سحر جادو (کودی) ویلی او په پای (اخر) کښې ئې د حضرت مسیح علیه السلام وژلو ته ملا وتړله حق تعالیٰ په خپل لطف او کرم سره حضرت مسیح علیه السلام آسمان ته وخیژاوه په دې دول (طریقه) یهودان د خپل ناپاک مقصد په پای (اخر) ته رسولو کښې ناکام شول.

وَإِذْ أَوْحَيْتُ إِلَى الْحَوَارِيِّينَ أَنْ آمِنُوا بِي وَبِرَسُولِي قَالُوا آمَنَّا وَاشْهَدْ بِأَنَّنَا مُسْلِمُونَ ﴿١١١﴾ إِذْ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ هَلْ يَسْتَطِيعُ رَبُّكَ أَنْ يُنَزِّلَ عَلَيْنَا مَائِدَةً مِنَ السَّمَاءِ قَالَ اتَّقُوا اللَّهَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿١١٢﴾

او کله چه په زړونو کښې می ور واچول (او امر می وکړ د عیسٰی په ژبه قوم د عیسیٰ) حواریونو ته چه ایمان راوړئ تاسی په ما (چه ستاسی الله یم) او په رسول زما (چه عیسٰی دی، نو) وویل حواریونو چه ایمان مو راوړی دی (په الله او عیسٰی) او شاهد اوسه (ای عیسٰی) په دې چه بیشکه مونږ مسلمانان یو (غاړه ایښودونکی حکم د الله ته) کله چه وویل حواریونو چه ای عیسٰی زوی د مریمی آیا قبلوی رب ستا (دا سوال) چه نازلی کړی پر مونږ دکی خونچی له (طرفه د) آسمانه، وویل (عیسٰی) وویریږئ له الله (په داسی سوالونو کښې) که یئ تاسی مؤمنان (په قدرت د الله او نبوت زما)

**تفسیر:** «یستطیع» ئی ځکه وویل چه ستا په رعایت او دعاء مونږ ته د«خرق عادت» په دول (طریقه) نه دی معلوم چه داسی کولی شی؟ که نشی کولی؟.

﴿ مَآئِدَةً مِّنَ السَّمَآءِ ﴾ ډکي خونچې‌له طرفه دآسمانه) یعنی‌دآسمان‌له لوری‌بې‌له زحمته روزی راورسېږی. داضروری نه‌ده‌چه هغه دي فقط دجنت‌له دستر خان څخه وی .

﴿ قَالَ اتَّقُوا اللَّهَ إِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِينَ ﴾ وویل عیسٰی چه وویریږئ له الله په داسی سوالونو کښې که یئ تاسی مؤمنان په قدرت د الله او نبوت زما ایماندار بنده ته دا لایقه نه ده چه داسی فوق‌العاده غوښتنی وکړی او پاک الله وازمائی اگر که د ده له لوری د ډیری زیاتی مهربانی اظهار هم وشی، ښائی چه روزی په همغو ذرائعو سره وغوښتله شی چه د قدرت له خوا د هغه د تحصیل له پاره مقرری شوی دی، کله چه بنده له الله تعالیٰ ځنی وویریږی او تقویٰ اختیار کړی او یوائې په الله تعالیٰ باندی اعتماد او اعتقاد ولری نو حق تعالیٰ ده ته له داسی ځایه روزی وررسوی چه له هغه ځایه ئی وهم او گمان هم نه وی ﴿ وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ﴾ الآیة - (۲۸) جزء دالطلاق (۲ او ۳) آیت (۱) رکوع.

قَالُوا نُرِيدُ أَن نَّأْكُلَ مِنْهَا وَتَطْمَئِنَّ قُلُوبُنَا وَنَعْلَمَ أَن قَدْ صَدَقْتَنَا وَنَكُونَ عَلَيْهَا مِنَ الشَّاهِدِينَ ﴿١١٣﴾

وويل (حواريونو) اراده لرو مونږ (په دغه سوال سره) چه وخورو له (خوړو د دغی (خونچی) او مطمئن شی (په دغه خوراک سره) زړونه زمونږ او پوه شو مونږ په دی چه په تحقیق رښتیا ویلی ؤ تا مونږ ته (چه زه رسول الله یم د دی معجزی په اظهار سره) او اوسو مونږ پر دی (خونچی) له شاهدانو څخه (هغوی ته چه غائبان دی یا له کتونکو).

**تفسیر:** یعنی د ازموینی له پاره ئی نه غواړو، بلکه د برکت په امید ئی غواړو چه له غیبه بی محنته روزی راورسیږی څو د زړه په اطمینان او ډاډینه سره د الله تعالیٰ په عبادت کښی لګیا شو او د هغو غیبی خبرو څخه چه تا د جنت د نعمتونو په نسبت راته کړی دی یوه وړوکی نمونه په سترګو هم وګورو او کامل یقین حاصل کړو او د یوه عینی شاهد غوندی مونږ پر هغه شاهدان شو او دغه معجزه تل مشهوره پاتی شی. ځینی مفسران نقل کوی چه حضرت مسیح علیه السلام وعده فرمایلی وه چه تاسی الله تعالیٰ ته دیرش ورځی روژی ونیسئ! نو هر څه چه وغواړئ! هغه به درکړی شی! حواریونو روژه ونیوله او مائده (خونچه) ئی وغوښته او د « ونعلم ان قد صدقتنا» څخه هم دغه مراد دی. والله اعلم.
(نو کله چه معلوم شو چه دغه سوال د حواریونو د تعنت او سرکشی له پلوه نه دی بلکه د یقین د زیاتوالی له پاره دی نو).

قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا أَنزِلْ عَلَيْنَا مَائِدَةً مِّنَ السَّمَاءِ تَكُونُ لَنَا عِيدًا لِّأَوَّلِنَا وَآخِرِنَا وَآيَةً مِّنكَ وَارْزُقْنَا وَأَنتَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ﴿١١٤﴾

وویل عیسیٰ زوی د مریمی ای الله! ربه زمونږ رانازله (راښکته) کړه پر مونږ باندی ډکه خونچه له (طرفه د) آسمانه چه شی (وخت د نزول د دغی ډکی خونچی) مونږ ته اختر له پاره د ړومبنیو زمونږ او د وروستنیو زمونږ او (بل دا چه شی دغه خونچه) دلیل له تانه (ستا په قدرت او ځما په نبوت او

صداقت) او روزی راکړه مونږ ته او هم ته ئی (خیر) غوره د روزی ورکوونکو.

**تفسیر:** یعنی هغه ورځ (چه مائده له آسمانه پکښی نازله شی) زمونږ د پخوانیو او وروستنیو په حق کښی به اختر شی چه تل زمونږ قوم هغه ورځ د یادګار په دول (طریقه) اختر وګرځوی. له دی تقریر سره سم د ﴿ تَكُونُ لَنَا عِيدًا ﴾ اطلاق داسی شو لکه چه د ﴿ اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ ﴾ د آیت په متعلق په (بخاری) شریف کښی د یهودانو دغه مقوله نقل شوی دی «انکم تقرؤن آیة لونزلت فینالا تخذناها عیدا» همغسی چه دآیت له اختر ګرځولو ځنی مطلب د هغه آیت د«یوم النزول» عید ګرځول دی (کماهومصرح فی الروایات الاخر) پر هم دی باندی د مائدی اختر هم قیاس کړئ. وائی چه هغه مائده (خونچه) په یکشنبه (اتبار) کښی نازله شوه چه د نصرانیانو په نزد همغه د هفتی (اونی) اختر دی لکه چه زمونږ مسلمانانو له پاره جمعه ده. ﴿ وَارْزُقْنَا وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴾ او روزی راکړه مونږ ته او هم ته غوره د روزی ورکوونکو ئی!. یعنی بی له ستومانی او کسبه رزق او روزی راعطا کړه! چه ستا په دربار کښی د هیڅ شی کمی نشته او تاته دغه عطا ډیره آسانه ده.

قَالَ اللّٰهُ اِنِّيْ مُنَزِّلُهَا عَلَيْكُمْ فَمَنْ يَّكْفُرْ بَعْدُ مِنْكُمْ فَاِنِّيْٓ اُعَذِّبُهٗ عَذَابًا لَّآ اُعَذِّبُهٗٓ اَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١١٥﴾

وفرمایل الله زه نازل کوونکی یم د دی خونچی پر تاسو، نو هر څوک چه ناشکری وکړی وروسته (له نزوله د دی خونچی) له تاسی ځنی نو بیشکه زه عذاب ورکوم هغه ته داسی عذاب چه نه به په عذابوم په هغه سره بل هیڅ یو له (نورو) مخلوقاتو.

**تفسیر:** هر کله چه نعمت فوق‌العاده او عجیبه وی نو د هغه د شکر ګذاری تاکید هم ښائی چه له معمول ځنی زیات وی، او د هغه په ناشکری هم فوق‌العاده او عجیبه عذاب راتلونکی وی «موضح القرآن». ځینی وائی چه هغه مائده تر (۴۰) ورځو پوری نازلیده خو ځینو پری ناشکری وکړه، یعنی داسی حکم شوی ؤ چه له هغی ځنی دی فقیر او مریض وخوری، خو له هغی ځنی مرو، روغو رمتو سړیو هم خوړله. بیا نژدی اتیا تنه له دوی ځنی بیزوګان او بدځناوران شول، دا عذاب پخوا له دی نه پر یهودانو هم نازل شوی ؤ وروسته له هغه بیا پر بل چا نه دی نازل شوی. او ځینی وائی چه دوی د دی تهدید له اوریدلو ځنی وویریدل او د هغی له غوښتنی څخه پښیمانه شول او وئی نه غوښتله. لیکن د رسول دعاء عبث نه وی او نقل ئی په دی کلام کښی بی حکمته نه دی او ښائی چه د هم دی دعاء اثر وی چه د حضرت عیسٰی علیه السلام په امت کښی تل

هوسائی (خوشالی) او مالداری ده. او هر هغه چه له دوی ځنی ناشکری وکړی او د زړه په اطمینان په عبادت مشغول نشی. بلکه په ګناه اخته شی نو ښائی چه په آخرت کښی به له ګردو(تولو) ځنی زیات عذاب ومومی په دی کښی مسلمانانو ته هم عبرت دی چه خپله مدعا دی د «خرق العادت» له لاری ځنی ونه غواړی چه بیا د هغه شکر ګذاری ډیره مشکله ده که پر ظاهری اسبابو قناعت وکړئ ښه دی. په دی قصه کښی دا هم ثابته شوه چه د الله تعالیٰ په حضور کښی د هیچا حمایت او نور (بی د ده له اذنه) په کار نه ورځی.

وَإِذْ قَالَ اللَّهُ يَٰعِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ ءَأَنتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَٰهَيْنِ مِن دُونِ اللَّهِ

او کله چه وویل الله ای عیسیٰ زوی د مریمی! آیا تا ویلی ؤ خلقو ته چه ونسیئ ما او مور زما (دواړه) خدایان بی له الله نه،

**تفسیر:** حقیقتاً پخوانی (۱۵) رکوع د دی (۱٦) رکوع تمهید وه الله تعالیٰ په رومبنی رکوع کښی ﴿ يَوْمَ يَجْمَعُ اللَّهُ الرُّسُلَ ﴾ الآیة ـ فرمایلی او ښکاره کړی ئی وه چه د قیامت په ورځ کښی به له تمامو مرسلانو ځنی د دوی د امتیانو په مخ کښی علی روس الاشهاد سوال او ځواب کیږی بیا د دوی په منځ کښی ئی خاص د حضرت مسیح علیه السلام ذکر وفرمایه چه هغه ته په کروړونو خلقو د خدائی درجه ورکړی ده او له ده څخه بالخصوص د دی باطلی عقیدی په نسبت پوښتنه کیږی، لیکن اول هغه عظیم‌الشان احسانات او ممتاز انعامات په یادوی چه پر مسیح علیه السلام او د مسیح علیه السلام پر ماجدی والدی بی‌بی مریمی مبذول شوی دی، بیا به داسی ارشاد کیږی ﴿ ءَأَنتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُونِي ﴾ الآیة ـ آیا تا خلقو ته ویلی ؤ چه ما او زما مور هم ماسوا له الله ځنی د خپلو معبودانو په ډول (طریقه) ومنئ؟. حضرت مسیح علیه السلام به د دی سوال په مقابل کښی وریږدی او په ډیره وارخطائی سره به ودریږی او هغه عرض به وکړی چه وروسته له دی نه راځی، په آخر کښی به ارشاد کیږی ﴿ هَٰذَا يَوْمُ يَنفَعُ الصَّادِقِينَ صِدْقُهُمْ ﴾ د «هذا» اشاره د هغی ورځی په لوری ده چه په «یوم یجمع الله الرسل» کښی مذکوره شوه. په هر حال دا تولی واقعی د قیامت د ورځی دی چه د هغه له یقینی راتګ څخه قرآن او احادیثو د ماضی په صیغه یعنی «قال» سره تعبیر فرمایلی دی.

قَالَ سُبْحَٰنَكَ مَا يَكُونُ لِيٓ أَنْ أَقُولَ مَا لَيْسَ لِي بِحَقٍّ إِن كُنتُ قُلْتُهُۥ فَقَدْ عَلِمْتَهُۥ

تَعۡلَمُ مَا فِیۡ نَفۡسِیۡ وَلَاۤ اَعۡلَمُ مَا فِیۡ نَفۡسِكَ ؕ اِنَّكَ اَنۡتَ عَلَّامُ الۡغُیُوۡبِ ﴿۱۱۶﴾

وبه وائی (عیسٰی) چه پاکی ده تا لره (ای الله! له شریکه) نه ده لایقه ماته دا چه ووایم زه هغه خبره چه نشته ماته حق (د ویلو د هغی) که وم زه چه ویلی می وی دا خبره نو په تحقیق معلومه به وه تاته هغه خبره تاته معلوم دی هر هغه شی چه په نفس زما کښی دی او نه پوهیږمه زه په هغه شی چه په ذات ستا کښی دی (له معلوماتو ستا)، بیشکه ته هم دا ته ئی لوی عالم پر غیبو (اسرارو هم)

**تفسیر:** یعنی زه داسی ناکاره خبره څرنګه کولی شم ستا پاک ذات له داسی تهمتونو څخنی پاک او منزه دی او ستا په الوهیت او نورو ذاتی او فعلی صفاتو کښی هیڅوک له تا سره نشی شریکیدی او هر چاته چه تا د رسالت جلیل منصب عنایت فرمایلی دی د ده له شانه سره دا نه ده مناسبه چه کومه ناحقه خبره له خپلی خولی څخه راوباسی پس ستا سبوحیت او څما د عصمت د دواړو دا اقتضاء ده چه زه داسی چتی (بیکاره) او ناپاکی خبری نشم کولی، له ګردو(تولو) دلایلو څخنی صرف نظر آخری خبره هم دا ده چه ستا له محیط علم څخه هیڅ یو شی نشی وتلی، که فی‌الواقع ما داسی ویلی وی نو ستاپه علم کښی به هغه ضرور موجود وی تاته به معلوم دی چه په پټه او ښکاره می داسی کومه خبره له خپلی خولی څخنی نه ده ایستلی بلکه څما په زړه کښی د داسی ناکاره او چتی (بیکاره) خیالاتو خطور (وسوسه) هم نه دی شوی له تا څخه زما او د نورو د زړونو مخفی هواجس (خیالات) او خواطر هم نه دی پټ.

مَا قُلۡتُ لَهُمۡ اِلَّا مَاۤ اَمَرۡتَنِیۡ بِهٖۤ اَنِ اعۡبُدُوا اللّٰهَ رَبِّیۡ وَرَبَّكُمۡ ۚ
وَكُنۡتُ عَلَیۡهِمۡ شَهِیۡدًا مَّا دُمۡتُ فِیۡهِمۡ ۚ فَلَمَّا تَوَفَّیۡتَنِیۡ كُنۡتَ
اَنۡتَ الرَّقِیۡبَ عَلَیۡهِمۡ ؕ وَاَنۡتَ عَلٰی كُلِّ شَیۡءٍ شَهِیۡدٌ ﴿۱۱۷﴾

نه دی ویلی ما دوی ته (هیڅ شی) مګر هغه چه تا امر (حکم) کړی ؤ ماته په هغه سره چه عبادت کوئ تاسی د الله د رب زما او رب ستاسی او ومه زه (پر اقوالو او افعالو) د دوی باندی خبردار (څارونکی په موعظو سره) تر څو چه ومه زه په دوی کښی پس کله چه ونیولم تا زه کامل (په بیولو سره

آسمان ته) نو وی ته هم دا ته څارونکی (خبردار) پر دوی او ته پر هر شی باندی ښه حاضر ښه خبردار ئی

**تفسیر:** ما ستا له حکمه د یوه ویښته په اندازه هم تجاوز نه دی کړی. ما به ولی د خپل الوهیت تعلیم دوی ته کاوه، بالمقابل ما تش ستا د بندګی په لوری هغوی ته دعوت ورکاوه او په صافو او ښکاره خبرو سره می دوی ته د وحدانیت داسی ښوونه کوله چه زما او ستاسی د ګردو (ټولو) رب (پالونکی) همغه یو الله تعالیٰ دی چه **(وحده لاشریک له)** او یوائی د معبودیت وړ (لائق) دی. لکه چه نن هم په «انجیل ـ بائیبل» کښی په دی مضمون ډیر صریح نصوص شته نه یوائی دا چه ما مخلوق ته ستا په لوری د توحید او عبودیت دعوت ورکړی دی بلکه تر هغه پوری چه زه د دوی په منځ کښی اوسیدم د دوی د احوالو کتنه او پوښتنه می په ښه شان سره کړی ده څو کومه غلطه عقیده، یا بی موقعه خیال قائم نه کړی. کله چه د دوی په منځ کښی زما د قیام هغه موده چه ستا په علم کښی مقدره وه پوره شوه نو زه دی له دوی څخنی واخستم **(کمایظهر من مادة التوفي ومقابلة مادمت فيهم)** نو بیا یوائی ته د دغه احوال کتونکی او خبردار ئی! زه د دی موضوع په نسبت هیڅ عرض نشم کولی.

**تنبیه:** د حضرت مسیح علیه السلام د موت (یاد رفع الی السماء) او نور بحث دی په (۳) جزء د «آل عمران» په (۵۵) آیت «انی متوفیک و رافعک الی» (٦) رکوع کښی وکتل شی. محقق شیخ الهند قدس الله سره دلته د «فلما توفیتنی» ترجمه «تا زه واخیستلم» سره کړی ده چه د محاوری په اعتبار «په موت» او په «رفع الی السماء» دواړو باندی صادقیدی شی. ګواکی تنبیه ئی وکړه چه نه د «توفیٰ» لفظ دپاره «موت» لازم دی او نه خاص هغه «توفیٰ» چه د موت په صورت دی په دغه تر بحث لاندی مباحثه کښی څه مداخله لری. نبی کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم په یوه حدیث کښی ارشاد فرمایلی دی چه د څینو خلقو په نسبت به زه د قیامت په ورځ داسی وایم لکه چه د الله تعالیٰ صالح بنده عیسیٰ علیه السلام ویلی و ﴿وَكُنتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَّا دُمْتُ فِيهِمْ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي كُنتَ أَنتَ الرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ﴾ له داسی تشبیهاتو څخنی د دی خبری ایستل (چه د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم او د حضرت مسیح علیه السلام «توفیٰ» دی هم په هر حال ښائی یو شان او یو رنګ وی پر عربیت د ناپوهی دلیل دی. د مکی معظمی مشرکانو پر یوی ونی (ذات انماط) باندی خپلی وسلی ځړولی وی، اصحابو رضی الله تعالیٰ عنهم عرض وکړ یا رسول الله! صلی الله علیه وسلم مونږ ته هم د دوی په شان (ذات انماط) مقرر کړئ! رسول الله مبارک وفرمایل کما قال قوم موسیٰ علیه السلام «اجعل لنااِلٰها کمالهم آلهة» دا خو داسی شوه کله چه د موسیٰ علیه السلام قوم غوښتنه کړی وه، چه «مونږ ته هم د داسی یوه معبود تجویز وکړه! لکه چه د دغو بت پرستانو دی» کوم مسلمان د دی تشبیه له اوریدلو څخنی داسی ګمان کولی شی چه معاذ الله اصحابو رضی الله تعالیٰ عنهم به د بتپرستی غوښتنه او درخواست کړی وی؟ په داسی تشبیهاتو سره له محکمو نصوصو او د امت له اجماع څخه مخالفت او پر

باطلو عقائدو متمسک کيدل يواځې د هغه جماعت کار دی، چه د هغوی په نسبت داسی ارشاد شوی دی ﴿ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَٰبَهَ مِنْهُ ٱبْتِغَآءَ ٱلْفِتْنَةِ وَٱبْتِغَآءَ تَأْوِيلِهِۦ ﴾
نو هر څه هغه کسان چه په زړونو د دوی کښې کوږوالی دی پس پیروی کوی دوی د هغو کلماتو چه متشابه وی له قرآنه له پاره د طلب د فتنې او ګمراهي او دپاره د طلب د معنی د هغی).

---

إِن تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ ۖ وَإِن تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿١١٨﴾

---

که عذاب ورکړې ته (ای الله!) دوی ته نو بیشکه دوی بندګان ستا دی (او ته ئې مالک ئې نو نشته هيڅ اعتراض پر تاسی) او که ببښنه وکړې دوی ته نو بیشکه ته هم دا ته ئې ښه غالب شوی (په انفاذ د احکامو) لوی حکمت والا (چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی).

---

**تفسير:** یعنی ته په خپلو بندګانو ظلم او بيځایه سختی نه کوی که دوی ته سزا ورکړې نو په عين عدل او حکمت بنا ده او که فرضاً دوی وبښې نو دغه عفوه هم (عين لطف او مهربانی) او د عجز او سفاهت له کبله (وجی) نه ده. ځکه چه ته «عزيز» زبردست او غالب ئې! او هيڅ کوم مجرم ستا د قدرت له قبضې څخه نه وتلی او نه تښتيدلی شی او ته په هرچا او هر ځای قوت او قدرت او قابو لرې او څرنګه چه «حکيم» حکمت والا ئې نو دا هم هيڅيری امکان نه لری چه کوم مجرم به بی موقع خوشی کړې. په هر حال هر هغه فيصله چه ته د مجرمانو په حق کښې وفرمائې هغه بيخی ستا په حکمت او قدرت مبنی ده څرنګه چه د حضرت مسيح عليه السلام دا کلام به په محشر کښې ويل کيږی چه هلته به د کفارو په حق کښې هيڅ کوم شفاعت او استرحام او نور شيان نه وی نو ځکه حضرت مسيح عليه السلام د «عزيز حکيم» په ځای «غفور رحيم» او نورو صفاتو اختيار ونه کړ د دی په خلاف حضرت ابراهيم عليه السلام په دنيا کښې د خپل پروردګار په حضور کښې عرض کړی ؤ «﴿ رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِّنَ ٱلنَّاسِ ۖ فَمَن تَبِعَنِى فَإِنَّهُۥ مِنِّى ۖ وَمَنْ عَصَانِى فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ ای پروردګاره! دی بتانو دير خلق ګمراهان کړی دی نو هر يو له دوی څخنی چه زما متابعت وکړی، هغه زما امت دی او هر څوک چه له ما څخنی غاړه وغړوی نو بيا ته غفور او رحيم ئې» يعنی اوس هم موقع ده چه ته هغوی ته په خپل رحمت سره وروسته له دی نه د توبې او د رجوع الی الحق توفيق وروبښې! او پخوانی ګناهونه ورمعاف کړې!

قَالَ اللّٰهُ هٰذَا يَوْمُ يَنْفَعُ الصّٰدِقِيْنَ صِدْقُهُمْ ؕ لَهُمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۱۱۹﴾

وبه فرمائی الله (په قیامت کښې) دا ورځ د دی ده چه نفع به رسوی صادقینو ته صدق د دوی (چه په دنیا کښې ئی کړی وی،) (مقرر) دی دوی ته (هسی) جنتونه چه بهیږی له لاندی (ونو او مانیو د) د هغو ویالی (د اوبو، شودو، شرابو او شاتو) تل به وی دوی په هغه کښې همیشه راضی شوی دی الله له دوی نه (په طاعت سره) او راضی دی دوی له الله څخه (په موندلو د ثواب) دا (خلود او رضوان) بری دی ډیر لوی.

**تفسیر:** یعنی هغه کسان چه اعتقاداً او قولاً او عملاً رښتین او صادقان پاتی دی لکه حضرت مسیح علیه السلام هغوی ته به د دوی د صداقت ثمره نن ورځ وررسیږی (چه هغه د جنت خلود او د رب العزت لقاء او رضا ده! اللّٰهم ارزقنا!) یعنی لویه کامیابی د الله تعالیٰ رضا ده، او جنت هم د دی له امله (وجی) مطلوب دی چه د الله تعالیٰ د رضا محل دی.

لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا فِيْهِنَّ ؕ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۲۰﴾

خاص الله لره دی ملک (سلطنت) د آسمانونو او (سلطنت د) ځمکی او (سلطنت) د هغو شیانو چه په دوی کښې دی او الله پر هر شی باندی (چه اراده ئی وفرمائی) ښه قادر دی (چه ځینی ئی صادق ته ثواب او کاذب ته عذاب ورکول دی)

**تفسیر:** یعنی له هر وفادار او مجرم سره همغه معامله کیږی چه د یوه مطلق شهنشاه له عظمته او جلاله سره وړ (لائق) او مناسب وی.

**تمت سورة المائدة بفضل من به الاعانة واليه الاعادة ونسأله فى البيان حسن الافادة والاجادة وفى البنان نعم الافازة والانارة**

سورة الانعام مكية الاتسع آيات فمدنية وهى مائة وخمس وستون آية و عشرون ركوعاً نزلت بعد الحجر رقمها (٦) تسلسلهاحسب النزول (٥٥)

د «الانعام» سورت مكى دى په استثناء د نهو آيتونو چه د ځينو علماؤ په نزد مدنى دى او هغه ۲۰-۲۳-۹۱-۹۳-۱۱٤-۱٤۱-۱٥۱-۱٥۲-۱٥۳- دى يو سل او پنځه شپيته آيتونه او شل ركوع لرى وروسته د «الحجر» له سورته نازل شوى دى په تلاوت كښى (٦) سورت دى او په نزول كښى (٥٥) په روايتونو كښى راغلى دى چه دا گرد (تول) سورت په يو وخت كښى سره له بيشميره پرښتو نازل شو. مگر ابن صلاح رحمة الله عليه په خپلى فتاوىٰ كښى د دى رواياتو له صحته انكار كړى دى چه د پوره سورت پر يو ځاى نازليدلو دلالت كوى. «والله اعلم» ابواسحٰق اسفرائينى رحمة الله عليه وائى چه دغه سورت د توحيد پر گردو (تولو) قواعدو او اصولو مشتمل دى.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ○

شروع كوم، په نامه د الله چه ډير زيات مهربان پوره رحم لرونكى دى

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَجَعَلَ الظُّلُمٰتِ وَالنُّوْرَ ۬ ثُمَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُوْنَ ①

گردى (تولى) ثناوى او ستاينى (صفتونه) خاص هغه الله لره دى چه پيدا كړى ئى دى آسمانونه (بى له نمونى) او ځمكه (بى له مادى) او پيدا كړى ئى دى (رنگارنگ) تيارى او رڼا (رڼرا) بيا (هم) هغه كسان چه كافران شوى دى په رب خپل سره برابروى (نور شيان په عبادت كښى يا د الله له عبادت څخه د غير الله عبادت ته عدول كوى).

**تفسير:** مجوسيان دنيا ته دوه خالقان (خدايان) دروى «يزدان» چه د خير خالق او «اهريمن» چه د شر خالق ئى گڼى او دواړه به ئى د نور او ظلمت په لقب سره ملقبول د (هندوستان) مشركان په درى ديرش كروړو خدايانو قائلان دى (چه هر يو خپل بت خداى بولى) د (اريه سماج) فرقه سره له دى چه د توحيد ادعا كوى «ماده» او «روح» هم لكه خداى غوندى غير مخلوق او ازلى بولى او الله تعالىٰ د تكوين او تخليق او په څه نورو صفاتو كښى دى دواړو ته (نستغفر الله) محتاج گڼى. عيسايانو د پلار او زوى د توازن او تناسب له پاره بالاخره د دريؤ نه يو، او يو له دريؤ نه مشهوره عقيده غوره كړه، يهودان د الله تعالىٰ له پاره داسى صفات تجويز كړل چه يو عادى انسان هم نه يواځى (العياذ بالله) له هغه سره اندول (ترلى) او برابر بلكه بهتر

هم کیدی شي. د عربو مشرکانو د خدایانو په تقسیم کښې تر دې ځایه پورې خپل سخاوت
وښود چه ښائی د دوی په نزد د یوه غره هره یوه ډبره (ګټه) هم د انسانانو د معبود ګرځیدلو
صلاحیت ولری، الغرض اور، اوبه لمر ستوری، ونه، تیږه (ګټه) او نور هیڅ یو شي ئی پری
نښودل او هر یوه موجود ته ئی له خدائی ځنی څه نه څه برخه ورکړه، او د عبادت او استعانت
او په نورو وختونو کښې به دوی د خدای په ځای هغوی درول. حال دا چه د الله تعالیٰ پاک ذات
د ګردو (ټولو) کمالی صفاتو د جامعیت شتوالي او د هر راز (قسم) ښیګنو (فائدو) د خالقیت
او منبع والي له امله (وجې) د ګردو (ټولو) ستاینو (صفتونو) او هر راز (قسم) حمد او ثنا بې
د نورو له شرکته ور (لائق) او مستحق دی هغه لوی (ذات عم نواله) چه آسمانونه او ځمکې،
یعنی ګرد (ټول) هغه علویات او سفلیات ئی پیدا کړل (چه د ګردو (ټولو) عالمیانو عقول د
هغو له احاطی څخه عاجز دی) شپه او ورځ، تیاره او رڼا (رڼرا)، هدایت او ضلالت، موت او
حیات لنده ئی دا چه ګرد (ټول) متقابل کیفیات او متضاد احوال ئی ظاهر وفرمایل، او ده ته
د ده په ګردو (ټولو) افعالو کښې د هیڅ یوه یار مددګار،حصه دار، ښځی، اولاد او د نورو
ضرورت نشته د ده په معبودیت او الوهیت کښې هیڅوک ورسره شریکیدی نشي او په ربوبیت
کښې هیڅوک د ده پر اراده غالبیدی نه شي او په ده د هیچا قوت او زور چلیدی نشي، بیا د
تعجب ځای دی چه د دغو حقائقو له لیدلو او پوهیدلو څخه وروسته بیا هم دوی په څه ډول
(طریقه) نورو شیانو ته د الوهیت مرتبه ورکوی؟ او د دوی په عبادت کښې مشغولیږی؟
(یا د دغه خالق‌الکل او مالک‌الکل له وجوده بیخی منکران کیږی).

هُوَ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن طِينٍ ثُمَّ قَضَىٰ أَجَلًا ۖ وَأَجَلٌ مُّسَمًّى عِندَهُ ۖ ثُمَّ أَنتُمْ تَمْتَرُونَ ﴿٢﴾

دغه (الله) هغه ذات دی چه پیدا کړی ئی تاسی له ختو (چه آدم ئی تری ساز
کړ) پس له هغه مقرر کړی ئی دی یو وخت (له پاره د مرګ) او یوه موده
معلومه (د قیامت) ده په نزد د الله بیا هم تاسی شک کوئ (په توحید او
بعث کښې)

**تفسیر:** پاس د «عالم الکبیر» یعنی د جهان د پیدائښت ذکر ؤ، دلته د «عالم الصغیر» یعنی د
انسان د خلقت بیان فرمائی چه وګورئ اول د بی ساه خاوری څخه ئی د آدم علیه السلام
کالبوت تیار کړ او په څه ډول (طریقه) ئی ژوندی کړ او په څه انسانی کمالاتو ئی فائض کړ،
او نن ورځ هم له هم دی خاوری ځنی ګرد (ټول) خواړه وځی او له غذا ځنی نطفه او له نطفی
ځنی انسان جوړیږی. غرض دا چه په دی ډول (طریقه) ئی له عدم ځنی تاسی په وجود راوړی یئ،

بیا ئی د هر سړی د مرګ له پاره یو وخت مقرر کړ، کله چه انسان بیا په خاورو کښی خښ او بیا له همغی سره ګډیږی چه تری پیدا شوی ؤ نو په هم دی باندی تاسی قیاس کولی شئ چه د «عالم الکبیر» فنا ته هم یو وخت مقرر دی. چه هغه ته «قیامت الکبریٰ» وایی «قیامت الصغریٰ» یعنی ځانګړی او انفرادی مرګونه څنګه چه مونږ ته تل راځی نو د هغه علم هم خلقو ته نه وی، لیکن د «قیامت الکبریٰ» د صحیح او برابر وخت علم یواځی پاک الله ته دی نو تعجب دی چه د «عالم الصغیر» یعنی د انسانانو د بقا او فنا د سلسلی له لیدلو سره سره بیا هم چه انسان د «عالم الکبیر» په فناء کښی څرنګه تردد کوی؟

---

وَهُوَ اللّٰهُ فِي السَّمٰوٰتِ وَفِي الْاَرْضِ ۚ يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَجَهْرَكُمْ وَيَعْلَمُ مَا تَكْسِبُوْنَ ③

---

او هم دی دی الله (مستحق د عبادت) په آسمانونو کښی او په ځمکه کښی عالم دی الله په پټ (حال) ستاسی او (عالم دی الله) په ښکاره (حال) ستاسی او عالم دی الله په هغو (اعمالو) چه کوئ (ئی) تاسی.

---

**تفسیر:** یعنی په ګردو (تولو) آسمانونو کښی یواځی همغه مطلق موجود او برحق معبود مالک، باچا، متصرف او مدبر دی او دغه مبارک نوم (الله) هم یواځی د همغه متعالی‌الصفاتو د ذات له پاره مخصوص دی بیا نو نورو ته د معبودیت استحقاق له کومه راغی؟ څنګه چه په ځمکه او آسمانونو کښی د همغه حکومت دی او همغه بلاواسطه په تولو ظاهرو او باطنو شیانو په پټو او په ښکاره، وړوکو او لویو عملونو مطلع دی، نو عابد ته هیڅ ضرورت نشته چه په خپلو عباداتو او استعاناتو او په نورو کښی غیر الله شریک وګرځوی، مشرکانو به چه داسی ویل ﴿ مَا نَعْبُدُهُمْ اِلَّا لِيُقَرِّبُوْنَاۤ اِلَى اللّٰهِ زُلْفٰى ﴾ مونږ عبادت نه کوو بتانو ته مګر کوو ئی د دی دپاره چه نژدی کړی مونږ الله ته په نژدیوالی سره» دغه د دوی او د دوی د نورو ملګرو ځواب شو او پرومبی په «اجل مسمیٰ» سره د قیامت په لوری اشاره وه، دلته ئی د مجازاتو په سلسله تنبیه وفرمایله چه په ځمکه او آسمان کښی زمونږ حکومت دی او ستاسی ګرد (تول) پټ او ښکاره، نیک او بد عملونه زمونږ په علم کښی شته بیا نو هیڅ وجه نشته چه تاسی هم داسی چتی (بیکاره) او مهمل پریښودی شئ.

وَمَا تَأْتِيهِم مِّنْ ءَايَةٍ مِّنْ ءَايَٰتِ رَبِّهِمْ إِلَّا كَانُوا۟ عَنْهَا مُعْرِضِينَ ﴿٤﴾
فَقَدْ كَذَّبُوا۟ بِٱلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ ۖ فَسَوْفَ يَأْتِيهِمْ أَنۢبَٰٓؤُا۟ مَا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٥﴾

---

او نه راځي دی (کفارو) ته هیڅ کوم (تکویني یا تنزیلي آیت) له آیتونو (له دلائلو د قدرت) د رب د دوی مګر وی دوی له هغه څخه مخ ګرځوونکی (تغافل کوونکی). نو په تحقیق نسبت د دروغو وکړ دوی حق ته کله چه راغي دوی ته نو ژر به راشي (ظاهر به شي) دوی ته اخبار (حقیقت) د هغه شي چه وو دوی چه پرې خندل به ئې.

---

**تفسیر:** له حق څخه غالباً «قرآن کریم» مراد دی چه د هغو کسانو بدانجامی او دنیوی او اخروی سزاوی بیانوی چه د قدرت له دلائلو څخني تغافل او تجاهل کوی او هر کله چه هغه اوری ترې اعراض او انکار کوی او تکذیب او استهزاء پرې کوی او داسې ښکاروی چه په هغو خبرو چه تاسې خاندئ او تمسخر پرې کوئ ـ هغه به ډیر ژر یو ثابت حقیقت وګرځي او تاسې ته به په مخه درشي، وروسته له دی نه د هغو اقوامو احوال وربیانوی چه د آیت الله د تکذیب او استهزاء او بدو عملو په سبب هلاک شوی دی.

---

أَلَمْ يَرَوْا۟ كَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَبْلِهِم مِّن قَرْنٍ مَّكَّنَّٰهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ مَا لَمْ نُمَكِّن لَّكُمْ
وَأَرْسَلْنَا ٱلسَّمَآءَ عَلَيْهِم مِّدْرَارًا وَجَعَلْنَا ٱلْأَنْهَٰرَ تَجْرِى مِن
تَحْتِهِمْ فَأَهْلَكْنَٰهُم بِذُنُوبِهِمْ وَأَنشَأْنَا مِنۢ بَعْدِهِمْ قَرْنًا ءَاخَرِينَ ﴿٦﴾

---

آیا نه دی کتلي (نه دی خبر شوی) دوی چه څومره (ډیره) هلاک کړی دی مونږ په خوا له دوی نه له (نورو امتونو) قرنونو څخني چه ښه قوت ورکړی ؤ مونږ دوی ته په ځمکه کښې دومره قوت چه نه مو دی درکړی تاسې ته او

راښکته کړی ؤ مونږ باران پر دوی پرله پسی اوریدونکی او ګرځولی مو وی ویالی چه بهیدلی له لاندی د (مانیو او ونو د) دوی نو هلاک کړل مونږ دوی په سبب د ګناهونو د دوی او پیدا کړل مونږ وروسته له دوی نه (اهل) د قرن نور

**تفسیر:** یعنی عاد او ثمود او نور چه له تاسی ځنی وو، او دوی ته ستاسی په نسبت ډیر طاقت، زور، قوت او قدرت ورکړی شوی ؤ، د بارانونو او ویالو له امله (وجی) د هغوی باغونه او کښتونه (فصلونه) تک شنه او خروب وو او د عیش او خوشالی په دوره کښی ئی ډیر ښه ژوندون درلود (لرلو) کله چه دوی بغاوت او تکذیب ته ملاوی وتړلی او د قدرت په نښو ئی خندل او مسخری ئی پری کولی نو مونږ دوی د هغو جرمو په سزا داسی سخت ونیول چه نوم او نښان ئی هم نه دی پاتی، وروسته له دوی نه مو نور امتونه پیدا کړل او له متکبرانو او مکذبانو سره مو هم دغه سلسله جاری کړه، مجرمان پرله پسی فنا کیدل خو د دنیا په ودانی کښی هیڅ یو خلل نه واقع کیده (قرن د یوی زمانی اهل ته وایه شی چه د هغه په تحدید او تعین کښی ډیر اقوال دی ځینی (۱۲) ځینی (۲۰) ځینی (۳۰) ځینی (۷۰) ځینی (۸۰) ځینی (۱۲۰) کلونو ته قرن وائی خو په اصح الاقوال کښی قرن د عمرونو له هغه متوسطه قدر او مشترک حد څخه عبارت دی چه زیاتره د یوی زمانی اهل پکښی ژوندون کوی یا هغومره موده چه د یوه کال د ځیګیدلو ځنی پکښی یو تن هم ژوندی پاتی نشی او ګرد (تول) سره ومری خو اوسنی پوهان سلو کلونو ته بالقطع قرن وائی).

وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتَٰبًا فِى قِرْطَاسٍ فَلَمَسُوهُ بِأَيْدِيهِمْ لَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ۞

او که نازل کړی وی مونږ پر تا کتاب (لیکلی) پر کاغذ پس مس کړی وی دوی دا کتاب په لاسونو خپلو (او په سترګو ئی هم لیدلی وی) نو خامخا ویلی به وو هغو کسانو چه کافران شوی دی چه نه دی دا مګر خو سحر (کوډی) دی ښکاره.

**تفسیر:** د مکی معظمی ځینو مشرکانو ویلی وو «که محمد صلی الله علیه وسلم یو تیار لیکلی شوی کتاب له آسمانه راوړی چه څلور پرښتی هم ورسره وی او زمونږ په مخ کښی شاهدی ادا کړی چه بیشکه هم دا کتاب د الله تعالیٰ له لوری لیږلی شوی دی نو مونږ به ایمان راوړو.» د هغو ځواب داسی ورکوی هغه خلق چه په موجوده حالت کښی دی لوی قران ته سحر، جادو او

کودی او راوړونکی ته ئی ساحر او کودګر وائی که په واقع سره مونږ په کاغذ لیکلی شوی داسی کتاب هم له آسمانه ورولیږو چه دوی ئی د خپلو لاسونو په مښلو سره هم معلوم کړی او ښه وپوهیږی چه څه تخییل او نظر بندی پکښی نشته نو بیا به هم دوی (عناداً) هم داسی وائی چه دا خو صریح جادو دی هغو بدبختو ته چه هدایت نه دی ور په برخه شوی د هغو شک او شبه له سره نه ورکیږی.

وَقَالُوا لَوْلَا أُنزِلَ عَلَيْهِ مَلَكٌ ۖ وَلَوْ أَنزَلْنَا مَلَكًا لَّقُضِيَ الْأَمْرُ ثُمَّ لَا يُنظَرُونَ ⑧

او ویلی (کفارو) ولی نه نازلیږی په دغه (محمد) پرښته (له آسمانه)؟ او که نازله کړی وی مونږ پرښته نو خامخا فیصله شوی به وه خبره (د هلاک د دوی) بیا به (دوی ته) مهلت نه وو ورکړی شوی

**تفسیر:** یعنی کفارو ویل چه ښائی پرښته مونږ ته مخامخ ودریږی او د ده پر صداقت شاهدی ورکړی نو الله تعالیٰ فرمائی «که پرښتی په خپل اصلی صورت سره راشی نو دا خلق د یوی شیبی له پاره هم د هغوی تحمل نشی کولی د پرښتو له رعب او هیبت او ډاره به د دوی ساوی ووځی. دا یواځی د انبیاؤ علیهم السلام ظرفیت او قوت دی چه د پرښتو د لیدلو تحمل په اصلی صورت سره کولی شی، زمونږ نبی کریم (علیه افضل الصلوٰة والتسلیم) په خپل ټول عمر کښی دوه ځلی حضرت جبریل علیه السلام په خپل اصلی صورت سره لیدلی دی او د بل کوم (نبی) په نسبت یو ځلی هم نه دی ثابت شوی. که د دی خلقو داسی عظیم الشان او خارق العاده غوښتنه هم پوره کړی شی او بیا ئی هم ونه منی لکه چه د دوی د نورو معاندانه احوالو او اقوالو څخه ښکاره ده نو له سنة الله سره برابر بیا قطعاً دوی ته هیڅ مهلت نه ورکاوه کیږی او د داسی سخت عذاب غوښتونکو باندی خامخا همغسی سخت عذاب نازلیږی چه په هغه سره به دوی بیخی فنا کیږی نو په دی لحاظ د داسی غوښتنی نه پوره کول هم ښائی د الله تعالیٰ عین رحمت وګانه شی.

وَلَوْ جَعَلْنَاهُ مَلَكًا لَّجَعَلْنَاهُ رَجُلًا وَلَلَبَسْنَا عَلَيْهِم مَّا يَلْبِسُونَ ⑨

او که ګرځولی وی مونږ دا رسول پرښته (نه بشر) نو خامخا ګرځولی به وه مونږ دغه پرښته (په صورت د یوه) سړی او (که ګرځولی وی مونږ پرښته په صورت د سړی نو) خامخا په شبهه کښی به اچولی وو مونږ دوی په همغسی اشتباه کښی چه اوس پکښی پراته دی.

**تفسیر:** څرنګه چه په پرومبنی آیت کښی د پرښتو د لیږلو ځنی په اصلی صورت سره نفی وشوه اوس نو د دوهم احتمال ځواب ورکوی او هغه دا دی چه باید پرښتی د انسانانو په شکل ولیږلی شی ځکه چه په دی صورت کښی د صوری مجانست په بناء خلق د دوی د نمونی او تعلیم ځنی منتفع کیدی شی لیکن په دی تقدیر سره هم د منکرانو د شبهاتو ازاله نشی کیدی. هغه شکونه او شبهی چه د رسول په بشریت کښی ئی کوی همغه به په ملک کښی هم (که د بشر په شکل د دوی له غوښتنی سره سم راتلی) واردیدلی.

وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّن قَبْلِكَ فَحَاقَ بِالَّذِينَ سَخِرُوا مِنْهُم مَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿١٠﴾

او خامخا په تحقیق مسخری کړی شوی دی په رسولانو چه پخوا وو له تانه نو چاپیر او محیط شو په هغو کسانو پوری چه مسخری ئی کولی په دوی پوری هغه (عذاب) چه وو دوی چه په هغه پوری به ئی مسخری کولی.

**تفسیر:** د معاندانو د غوښتنی له ځواب ورکولو څخه وروسته «محمد صلی الله علیه وسلم» ته تسلی ورکوله کیږی چه ته د دوی له استهزاء او تمسخر ځنی مه خپه او مه متأثر کیږه! دا کومه نوی خبره نه ده، پخوانیو انبیاؤ ته هم داسی حالات ورپیښ شوی وو بیا هغه سزاوی او هیدادونه (عذابونه) چه مکذبینو او د پیغمبرانو دښمنانو ته ورکړی شوی دی هغه ګردو (تولو) ته ښکاره دی نو لکه چه پخوانیو مجرمانو ته کومی سزاوی ورکړی شوی دی دوی ته هم الله تعالیٰ همغسی سزاوی ورکوی.

قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ ثُمَّ انظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ ﴿١١﴾

ووایه (ای محمده! دوی ته که دوی نه وی قائله په هلاک د پخوانیو قرنو) وګرځئ تاسی په ځمکه کښی بیا وګورئ چه څرنګه ؤ عاقبت (خاتمه) د دروغجن کوونکو (د رسولانو).

**تفسیر:** یعنی د ملکونو د سیر او سیاحت او ګرځیدلو او د تباه شویو اقوامو د آثارو له کتلو څخه وروسته که د عبرت په نظر سره ماضی واقعاتو ته وګورئ! نو د هغو اقوامو انجام به تاسی ته صاف درښکاره او څرګند شی چه د انبیاؤ تکذیب ته ئی ملاوی ترلی وی نو په همغو ئی

قیاس کړئ! کله چه د مکذبینو حال هغسی شو نو د استهزاء کوونکو حال به څرنګه وی؟.

قُلْ لِّمَنْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۗ قُلْ لِّلّٰهِ ۗ كَتَبَ عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ۗ لَيَجْمَعَنَّكُمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيْهِ ۗ اَلَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿١٢﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) چه چا لره دی (خلقاً ، ملکاً او عبیداً) هغه شیونه چه په آسمانونو کښی او په ځمکه کښی دی (سره له آسمانونو او ځمکی) ووایه (ای محمده ! دوی ته) چه خاص الله لره دی (بل ځواب نشته) لازم کړی دی الله (تفضلاً) پر نفس خپل رحمت خامخا تول به کړی (الله) هرومرو (خامخا) تاسی په ورځ د قیامت کښی چه نشته هیڅ شک په (راتلو د) هغی کښی هغه کسان چه زیان ئی رسولی دی ځانونو خپلو ته (د اصلی فطرت او سلیم عقل په ضیاع) نو دوی ایمان نه راوړی.

**تفسیر:** کله چه په ګردی (تولی) زمکی او آسمانونو کښی د الله تعالیٰ حکومت دی. لکه چه مشرکان هم داسی اقرار کوی نو مکذبانو او مستهزآنو ته کله له فوری سزا څخه نجات او پناه ورکوله کیږی؟ دا یواځی د الله جل جلاله عمومی رحمت دی چه د جرائمو د لیدلو سره سره فوراً مجرم ته سزا نه ورکوی، نو د قیامت په ورځ کښی چه یقیناً او بلا شبهه راتلونکی ده یواځی همغو بدبختانو ته به سزا ورکوی چه په قصد سره ئی خپل ځانونه د هلاکت په کنده کښی اچولی دی.

وَلَهٗ مَا سَكَنَ فِي الَّيْلِ وَالنَّهَارِ ۗ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿١٣﴾
قُلْ اَغَيْرَ اللّٰهِ اَتَّخِذُ وَلِيًّا فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ
وَهُوَ يُطْعِمُ وَلَا يُطْعَمُ ۗ قُلْ اِنِّيْٓ اُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ
اَوَّلَ مَنْ اَسْلَمَ وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿١٤﴾

او خاص دغه (الله) لره دی هغه شیونه چه اوسیږی (آرام کوی) په شپه کښی او په ورځ کښی (یعنی دا ټول د الله مملوک دی) او هم دغه (الله) دی ښه اوریدونکی د ټولو اقوالو) ښه عالم (پر ګردو (ټولو) احوالو) ووایه (ای محمده! دوی ته) چه آیا بی له الله ونیسم زه (بل ولی) دوست مددګار؟ (هسی الله) چه پیدا کوونکی د آسمانونو او د ځمکی دی (بلکه نه ئی نیسم) حال دا چه دغه (الله) روزی ورکوی (ګردو (ټولو) مخلوقاتو ته) او ده ته روزی نشی ورکولی ووایه (ای محمده! دوی ته) بیشکه زه مامور یم (حکم راته شوی دی) چه شم اول د هغو چه غاړه ئی ایښی ده (الله ته له دغه محمدی امته) او (ویلی شوی دی ماته) چه مه کیږه له سره له مشرکانو نه.

---

**تفسیر:** په ﴿ قُل لِّمَن مَّا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ﴾ کښی د مکان تعمیم ؤ. په ﴿ وَلَهُ مَا سَكَنَ فِي اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ ﴾ کښی د زمانی په اعتبار تعمیم دی، یعنی په هر ځای او په هر وخت کښی پاک الله حکومت، قبضه او اقتدار لری. هر هغه شیان چه په شپه یا ورځ کښی په آرامی او هوسائی (آرام) سره ژوندون کوی او له ډیرو معلومو او نامعلومو دښمنانو ځنی چه مامون او مصون پاتی کیږی دا د الله تعالیٰ د کامله رحمت له آثارو ځنی دی ﴿ قُلْ مَن يَكْلَؤُكُم بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ مِنَ الرَّحْمَٰنِ ﴾ (۱۷) جزء د الأنبیاء (٤٢) آیت (٤) رکوع الله تعالیٰ هغه مجمع‌الصفات ذات دی چه د ورځی په شور ماشور او د شپی په تیپو (تورو)تیارو او چوپه چوپتیا کښی هم د هر یوه غږ آوری او د ګردو (ټولو) په حوائجو او ضروریاتو په ښه ډول (طریقه) سره خبر دی نو اوس تاسی راوښیئ چه ولی تاسی داسی پاک الله پریږدئ او له نورو ځنی مرسته (مدد) غواړئ؟ آیا تاسی دا اعراض عن الله او اقبال الی غیرالله کوم ښه او موزون کار ګڼئ؟ ﴿ وَهُوَ يُطْعِمُ وَلَا يُطْعَمُ ﴾ حال دا چه دغه الله روزی ورکوی ګردو(ټولو) مخلوقاتو ته او ده ته روزی نشی ورکولی روزی ورکول د بقاء د سامان په لوری اشاره ده یعنی تاسی په ایجاد او بقاء دواړو کښی همغه ته محتاج یئ او الله تعالیٰ په خورا ډیر ادنیٰ شی کښی هم مونږ (او ګردو(ټولو) کائناتو) ته څه احتیاج لری بیا له هسی الله ځنی بیلیدل او بل د خپل ځان مرستیال (مددګار) ګرځول که انتهائی حماقت او ناپوهی نه ده؟ نو څه ده؟. ﴿ قُلْ إِنِّي أُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ أَوَّلَ مَنْ أَسْلَمَ ﴾ ووایه ای محمده! دوی ته بیشکه زه مامور یم حکم راته شوی دی چه شم اول د هغو چه غاړه ئی ایښی ده الله ته له دی محمدی امته د داسی پاک الله تعالیٰ د احکامو په مقابل کښی چه صفات ئی پاس مذکور شول، ډیره ضروری ده چه ګرد ټول بندګان همغه وحده لا شریک ته بی د غیر له شرکت نه غاړه کیږدی! او له ګردو (ټولو) ځنی لومړی هغه ډیر اکمل بنده ته د انتهائی انقیاد او تسلیم حکم دی چه ګردی (ټولی) دنیا ته د طاعت او عبودیت یوه خورا (ډیره) ښه نمونه رالیږلی شوی ده «صلی الله علیه وعلیٰ آله وصحبه وسلم!».

قُلْ إِنِّيٓ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ⑮

ووایه (ای محمده ! دوی ته) بیشکه زه ویریږم که نافرمانی وکړم له رب خپله له عذابه د ورځې ډیرې لوئې نه (چه قیامت دی).

**تفسیر:** په حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم ئی ایښی او نورو ته یی اوروَلی دی یعنی که په فرض محال سره د الله تعالیٰ له ډیرو معصومو او خورا (ډیرو) غوره بندګانو ځنې هم کوم دول (طریقه) عصیان صادر شي نو د الله تعالیٰ د عذاب اندیښنه ورته شته. نو بیا نورو ته کله لائق او وړ (مناسب) ده چه سره له شرکه او د انبیاؤ د تکذیبه او د نورو زرهاؤ دولونو (طریقو) جرائمو له ابتلاء سره د الله تعالیٰ له عذابه بیفکره او مامون کیښیني.

مَّن يُصْرَفْ عَنْهُ يَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمَهُۥ ۚ وَذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْمُبِينُ ⑯

هر هغه څوک چه چپ (بچ) کړی شي له عذابه په دی ورځ کیښې نو په تحقیق رحم (مهربانی) کړی ده (الله) په ده او دا (مهربانی) بری دی ښکاره.

**تفسیر:** د جنت او د الله جل جلاله رضا حاصلول خو د مدارجو اعلیٰ او خورا (ډیر) لوړ مقام دی، که له چا ځنی د آخرت عذاب لرې شي نو دغه هم لوی بری او ښه کامیابی ده. کماقال عمر رضی الله تعالیٰ عنه! «کفافا لالی ولاعلی».

وَإِن يَمْسَسْكَ ٱللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ
لَهُۥٓ إِلَّا هُوَ ۖ وَإِن يَمْسَسْكَ بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ
قَدِيرٌ ⑰ وَهُوَ ٱلْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِۦ ۚ وَهُوَ ٱلْحَكِيمُ ٱلْخَبِيرُ ⑱

او که ورسوی تاته الله څه سختی (لکه مرض او فقر) نو نشته هیڅ لری کوونکی د هغه مګر هم دی دی او که ورسوی تاته څه خیر (لکه صحت او غناء) نو دی پر هر شي (چه اراده وفرمائئ) ښه قادر دی (نو ټل خیر او شر نفع او ضرر هم د الله په اراده رسیږی) او هم دی غالب زورور دی د پاسه د بندګانو خپلو (په قدرت، قوت، قهر، غلبه نه په مکان) او هم دی ښه حکمت

والا ښه خبردار دی له هر شی).

**تفسیر:** هر چاته چه الله تعالیٰ په دنیا یا په آخرت کښی کوم تکلیف یا راحت ورسوی نه ئی ځوک په مقابله سره ستنولی (واپس کولی) شی او نه د ده له غلبی او اقتداره چیری تښتیدلی شی هم دا الله تعالیٰ له بنده څخه ښه خبردار دی چه څه څه اعمال او حالات لری او د دوی له اعمالو او حالاتو سره کوم اجراآت او بدل لازم او مناسب او له حکمت سره قرین دی؟ (دغه لاندی آیت هله نازل شو چه زمونږ رسول صلی الله علیه وسلم ته وویل شو چه ته په خپل صداقت باندی کوم شاهد لری؟ ځکه چه کتابیان ستا له نبوته انکار کوی).

قُلْ اَیُّ شَیْءٍ اَکْبَرُ شَهَادَةً ۖ قُلِ اللّٰهُ ۖ شَهِیْدٌۢ بَیْنِیْ وَبَیْنَكُمْ ۚ

(ووایه ای محمده! دوی ته) چه کوم یو شی لوی دی له جهته د شاهدی؟ ووایه (په ځواب کښی دوی ته) چه الله (لوی دی د شهادت له جهته بل ځواب نشته!) (او الله) ښه شاهد دی زما او ستاسی په منځ کښی.

**تفسیر:** کله ئی چه داسی وفرمایل چه فقط الله تعالیٰ د ګردو (تولو) منافعو او اضرارو مالک دی او پر ګردو (تولو) بندګانو غالب او قاهر او تر ذری ذری پوری هم له هر شی څخه خبردار دی نو د ده له شهادته زبردست او پاک شهادت بل شهادت نشی کیدی. نو زه هم د خپل ځان او ستاسی په منځ کښی همغه شاهد دروم. ځکه چه ما د رسالت دعویٰ وکړه او تول هغه پیغامونه چه د پاک الله وو تاسی ته می دروړسول نو د هغه په مقابل کښی هغه سلوک چه تاسی له ماسره وکړ او هغه وضعیت چه تاسی له دغو ربانی پیغامونو سره وکړ هغه تول ستاسی تر سترګو لاندی دی په خپله پاک الله به له خپل محیط علم سره سم زما او ستاسی په منځ کښی فیصله وکړی.

وَاُوْحِیَ اِلَیَّ هٰذَا الْقُرْاٰنُ لِاُنْذِرَكُمْ بِهٖ وَمَنْۢ بَلَغَ ؕ اَئِنَّكُمْ
لَتَشْهَدُوْنَ اَنَّ مَعَ اللّٰهِ اٰلِهَةً اُخْرٰی ؕ قُلْ لَّاۤ اَشْهَدُ ۚ قُلْ اِنَّمَا
هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ وَّاِنَّنِیْ بَرِیْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ﴿۱۹﴾

او وحی کړی شوی ده ماته دا قرآن له پاره د دی چه وویرؤم (خبردار کړم) تاسی په دی سره او هغه څوک چه وړورسیږی (ده ته دا قرآن په هر زمان او مکان کښی) آیا بیشکه تاسی خامخا شاهدی لولئ په دی چه شته سره د الله

خدایان نور؟ ووایه (ای محمده ! دوی ته) زه خو شاهدی (په دی سره) نه ورکوم، ووایه خبره هم دا ده چه الله دی معبود یو او بیشکه زه بیزار یم له هغو شیونو چه شریکان کوئ ئی تاسی (له الله سره)

**تفسیر:** یعنی که وپوهیږئ نو زما په صداقت د الله جل جلاله یقینی او ښکاره شهادت هم دا موجود عظیم الشان قرآن دی چه په خپله په دی باندی دلیل دی چه الٰهی کلام دی. «د لمر دلیل په خپله دغه لمر دی» زما کار دا دی چه تاسی او هر هغه چاته چه دا د الله تعالیٰ کلام وروړسیږی هغه د الله تعالیٰ له پیغامه خبردار کړم چه د توحید او معاد او د دین نور تمام اصول پکښی هدایت کړی شوی دی. آیا د داسی حجت له اتمام او د داسی قطعی او صریح توحید د پیغام له اوریدلو څخه وروسته بیا هم تاسی هم دا وایئ چه غیر له الله جل جلاله نور معبودان هم شته؟تاسی اختیار لرئ هر څه چه مو زړونه غواړی هغه ووایئ زه خو له سره داسی حرف په خپله ژبه نشم راوړی، بلکه صاف اعلان کوم چه د عبادت لائق او وړ یواځی هغه یو پاک الله دی. باقی هر هغه څه چه تاسی ئی ورسره شریکان ګڼئ. زه له هغو څخه بیخی خپله بیزاری او نفرت څرګندوم.

**تنبیه:** په «ومن بلغ» سره ئی وښود چه د نبی کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم رسالت د ګردو (ټولو) انسانانو، پیریانو، مشرق، مغرب، شمال، جنوب او ټولو مللو او اقوامو له پاره دی (د نزول له وقته تر قیامته پوری. او د پاک قرآن لیدل داسی دی لکه د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم لیدل)،

اَلَّذِیْنَ اٰتَیْنٰهُمُ الْکِتٰبَ یَعْرِفُوْنَهٗ کَمَا یَعْرِفُوْنَ اَبْنَآءَهُمْ
اَلَّذِیْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَهُمْ لَا یُؤْمِنُوْنَ ﴿۲۰﴾

هغه کسان چه ورکړی دی مونږ دوی ته کتاب پیژنی دوی دا (رسول) لکه چه پیژنی دوی ځامن خپل هغه کسان چه زیان ئی رسولی دی ځانونو خپلو ته نو دوی ایمان نه راوړی.

**تفسیر:** یعنی علاوه په دی چه زما په صداقت الله تعالیٰ شاهد او قرآن کریم ناطق دی او پری غیر قابل تردید شهادت ورکوی هغه اهل‌کتاب یعنی یهود او نصاریٰ هم (چه خلق هغوی ته د آسمانی کتابونو د عالمانو په حیث زما د خبرو او معاملو په باره کښی رجوع کوی) په خپلو زړونو کښی داسی پوره یقین لری چه بلاشبهه زه همغه (آخرالزمان نبی) یم چه زما زیری پخوانیو انبیاؤ علیهم السلام پرله پسی کړی دی. دوی همغسی چه په ډیرو هلکانو کښی خپل هلکان ژر

پیژنی او پکښې څه ربړ (زحمت) او تکلیف نه کوی هم داسې دوی د نبی کریم په رسالت، او د پاک قرآن په صداقت کښې هم هیڅ څه شک او شبهه نه لری او گرد(ټول) حقائق دوی ته ښکاره دی، هوا حسد، کبر، او د پلرونو تقلید او د جاه او مال مینه او نور اغراض دوی ته اجازه نه ورکوی چه په ایمان مشرف شی او خپل ځانونه له دائمی نقصان او ابدی هلاکت څخه وژغوری (وساتی).

---

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِآيَاتِهِ ۗ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ ﴿٢١﴾

---

او څوک دی ډیر ظالم له هغه چا چه وتړی پر الله دروغ یا نسبت د دروغو کوی آیتونو د ده ته؟ (بلکه نشته!) بیشکه شان دا دی چه خلاصی نه مومی ظالمان

---

**تفسیر:** یعنی چه نبی نه وی او پر الله جل جلاله افتراء، او د نبوت غلطه دعوی وکړی، یا د داسې صادق نبی تکذیب وکړی چه پر صداقت ئی واضحه دلائل موجود وی او د الله تعالیٰ پیغام خلقو ته اوروی له دی دواړو څخه زیات بل هیڅوک ظالم کیدی نشی او د الله جل جلاله سنت هم داسې جاری دی چه په پای (اخر) کښې بری او کامیابی ظالمانو ته نه په برخه کیږی نو فرض ئی کړئ که معاذالله زه مفتری یم نو له سره به بری ونه مومم او که تاسې مکذبان یئ لکه چه له دلائلو څخه ښکاریږی نو تاسې به د خیر مخ ونه وینئ! نو له دی کبله (وجی) ښائی چه پر گردو (ټولو) حالاتو کښې ښه غور او دقت وکړئ! او د آخرت او د انجام په فکر کښې شئ! او د هغی ورځی له عاقبته وویریږئ چه وروسته ئی ذکر راځی. ابن کثیر رحمة الله علیه د دی ایت معنی هم داسې اخیستی ده. او ځینو نورو مفسرینو د«افتراء علی الله» څخه د مشرکانو شرک مراد کړی دی لکه چه وراندی به ﴿ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴾ کښې اشاره شوی ده. والله أعلم.

---

وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشْرَكُوا أَيْنَ شُرَكَاؤُكُمُ الَّذِينَ كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ﴿٢٢﴾

---

او (یاده کړه) هغه ورځ چه راجمع به کړو دوی (یعنی عابدان او معبودان) ټول بیا به ووایو (زجراً) هغو کسانو ته چه شرک ئی کړی دی چه چیرته

دی؟ (او څه شول؟) شریکان ستاسی هغه (شریکان) چه وئ تاسی چه گڼل به مو (د الله شریکان).

**تفسیر:** یعنی هغه کسان چه د هغو په نسبت تاسی دعوی درلوده (لرله) چه د خدائی حصه‌دار او په شدائدو کښی ستاسی شفیعان او مددگاران دی، نو نن ورځ په داسی سختئ او د مصیبت په وخت کښی دوی له تاسی ځنی چیری لاړل؟ چه ستاسی هیڅ په کار نه درځی؟

ثُمَّ لَمْ تَكُن فِتْنَتُهُمْ إِلَّآ أَن قَالُواْ وَٱللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ ﴿٢٣﴾

بیا به نه وی (عاقبت د) فتنی (کفر، فریب، غدر) د دوی مگر دا چه وائی به دوی چه قسم دی په الله چه رب زمونږ دی چه نه وو مونږ مشرکان.

**تفسیر:** یعنی د واقعاتو له انکار ځنی پرته (علاوه) بله چاره نه لری. د هغو باطلو معبودانو حقیقت چه گرد (تول) عمر د هغو په عقیده او محبت کښی بیخی محو او مفتون شوی وو، هم دغومره پاتی کیږی چه د هغوی د گرد (تول) عمر له تعلق او عقیدی څخه هم منکریږی.

ٱنظُرْ كَيْفَ كَذَبُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُواْ يَفْتَرُونَ ﴿٢٤﴾

وگوره (ای محمده!) څرنگه دروغ ئی وویل پر ځانونو خپلو (په نفی د شرک له ځانه) او ورک شو له دوی نه هغه چه وو دوی چه تړل به ئی دروغ (پر الله په نیولو د شریکانو سره)

**تفسیر:** یعنی له دی صریحو دروغو ځنی به د مشرکانو انتهائی بدحواسی او د شریکانو بیخی بیچارگی او ناتوانی څرگندیږی، کشکی مشرکان له دی رسوا کوونکو عواقبو ځنی په دنیا کښی خبر او ځانونه ئی تری ژغورلی (ساتلی) وی.

وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ ۖ وَجَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن
يَفْقَهُوهُ وَفِىٓ ءَاذَانِهِمْ وَقْرًا ۚ وَإِن يَرَوْاْ كُلَّ ءَايَةٍ لَّا يُؤْمِنُواْ بِهَا

او ځینی له کفارو هغه څوک دی چه غوږ نیسی تاته (د قرآن د قرائت په

وخت کښې) او اچولې دي مونږ په زړونو د دوی پردې (له دې جهته) چه ونه پوهیږي دوی په دې (قرآن) او (ایښې مو دي) په غوږونو د دوی کښې درونډوالی (کونوالي چه حق خبره وانه وري) او که ووینې دوی ګرد (تول) دلائل (د قدرت نو بیا هم) ایمان نه راوړی دوی پر دغه (هر قسم معجزو عناداً)

**تفسیر:** دا د هغو کسانو ذکر دی چه د اعتراض او عیب لټولو له امله (وجی) به ئې قرآن کریم او د رسول الله مبارک خبرې اوریدلې او له هدایت څخه ګته آخستل او د حق منل د دوی مقصود نه ؤ. له نصیحت او هدایت څخه د ممتد اعراض او د دوی د اقبال‌الی‌الحق څخه د مسلسلو تعطیلو قدرتي نتیجه داسې شوه، چه د دوی د قبول‌الحق وسائل او قواوی بیخي بیکاره او مهملې وګرځیدې، او د حق او د حقیقت له منلو څخه د دوی زړونه بې برخې پاتې شول د هدایت د پیغام آوریدل به د دوی پر غوږونو سخت او درونډ لګیده، د دوی سترګې د عبرت له کتلو څخه داسې ړندې شوې وې چه د هر راز (قسم) نښو او علائمو د لیدلو سره سره بیا هم د ایمان راوړلو توفیق دوی ته پاتې نه ؤ او لطف دا دی چه په هم دغه حالت کښې په مرګ قانع او مسرور هم وو، بلکه د فخر په لهجه سره به ئې داسې اعلان کاوه ﴿ فَأَعْرَضَ أَكْثَرُهُمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ وَقَالُوا قُلُوبُنَا فِي أَكِنَّةٍ مِمَّا تَدْعُونَا إِلَيْهِ وَفِي آذَانِنَا وَقْرٌ وَمِنْ بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ فَاعْمَلْ إِنَّنَا عَامِلُونَ ﴾ (٢٤) جزء د حٰم السجده یا (فصلت) «٥» آیت «١» رکوع) له دې آیت څخه معلومه شوه چه د آیتونو د آوریدلو څخه عدم انتفاع او پر زړونو ئې پردې لویدل، په خپله د دوی د اعراضو نتیجه وه او دغه اعراض او مخ اړول د هم دغه کیفیت د حدوث سبب شوی دی ﴿ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ آيَاتُنَا وَلَّىٰ مُسْتَكْبِرًا كَأَنْ لَمْ يَسْمَعْهَا كَأَنَّ فِي أُذُنَيْهِ وَقْرًا ﴾ (٢١) جزء د لقمان (٧) آیت (١) رکوع څرنګه چه پر اسبابو د مسبباتو مرتبول ماسواء له الله تعالیٰ څخه د بل چا کار نه دی نو ځکه په دغه آیت کښې ﴿ وَجَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً ﴾ د پردې د آچولو او د نورو نسبت د الله تعالیٰ په لوری کړی شوی دی.

حَتَّىٰ إِذَا جَاءُوكَ يُجَادِلُونَكَ يَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ هَٰذَا إِلَّا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿٢٥﴾ وَهُمْ يَنْهَوْنَ عَنْهُ وَيَنْأَوْنَ عَنْهُ وَإِنْ يُهْلِكُونَ إِلَّا أَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٦﴾

تر هغه پورې کله چه راشي دوی تاته چه جګړې کوی له تا سره وائي هغه کسان چه کافران شوي دي نه دی دا قرآن مګر باطلې قصې دي د پخوانیو

خلقو. او دا کسان منع کوی (خلق) له رسوله (یا له قرآنه یا له ایمان نه) او (په خپله هم) لری کیږی له ده (چه ایمان پری نه راوړی،) او نه هلاکوی دوی مګر ځانونه خپل او نه پوهیږی دوی (په دی چه ضرر ئی هم دوی ته عائد دی).

**تفسیر:** یعنی په دوی کښی نه فهم پاتی دی او نه انصاف. ایمان راوړل او له ربانی هدایتونو ځنی انتفاع لا چیری؟. د حضرت پیغمبر په حضور کښی د دوی د راتللو څخه غرض یواځی مجادله، جګړه، تعریض، توکی او تفریح کول دی. کله چه قرآنی حقائقو او بیاناتو ته به ئی معاذالله ﴿ أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴾ ویل، بیا په دغه تکذیب، مجادله او تمسخر ئی اکتفا نه کوله او کوښښ ئی کاوه چه د نورو په اذهانو کښی هم دغه رنځوری سرایت وکری لکه چه خلق ئی له حق ځنی ستنول (واپس کول)، او دوی په خپله هم له حقائقو ځنی لری تښتیدل څو د دوی له لیدلو ځنی نور کسان هم د حق له منلو ځنی متنفر او بیزاره شی. مګر له دغو تولو ناپاکو کوښښونو ځنی «لله الحمد» نه حق دین ته څه نقصان رسیدی شی او هغه هرومرو(خامخا) غالبیږی، او نه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته څه نقصان رسیږی ځکه چه د ده د عصمت او رفعت تکفل په خپله حق سبحانه و تعالیٰ کری دی. هو! دغه احمقان خپل ابدی هلاکت ته سامان برابروی . او نه پوهیږی چه دوی په خپلو لاسونو خپلی پښی په تبر وهی!

وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذْ وُقِفُوا۟ عَلَى ٱلنَّارِ فَقَالُوا۟ يَـٰلَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِـَٔايَـٰتِ رَبِّنَا وَنَكُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٢٧﴾

او که ووینی ته (ای محمده!) کله چه ودرولی شی دوی پر اور (د دوزخ، د پل صراط په سر نو وبه وینی یو لوی امر) نو وبه وائی دوی (د عذاب د انواعو د لیدلو وروسته) ای کاشکی مونږ بیا بوتلی شو (دنیا ته) او نه به کړو تکذیب په آیتونو د رب خپل او شو به مونږ له مؤمنانو (باور کوونکیو نه).

**تفسیر:** یعنی دآیات الله تکذیب او استهزاء او نور ګرد (تول) شورماشور به تر هغه وخته پوری وی څو چه دوی د الله تعالیٰ د سزا له ویروونکی او سدوږونکی منظری او ننداری سره مخامخ شی، څه مهال (وخت) چه د دوزخ لږ څه هوا دوی ته ورسیږی نو ګرد (تول) تکبر او غرور او لوئی به د دوی له سر څخه ووځی، او په زرهاؤ ځلی به هیله (امید) او آرزو کوی او په ارمانونو سره به دا غواړی که مونږ بیا دنیا ته ولیږلی شو څو هلته بیا د خپل رب دآیتونو تکذیب ونه

کړو او بیخی له تینګو ایماندارانو ځنی شو

لګیا وی تل په لوبو له نن ورځی وی بیغم
الان قد ندمت وماینفع الندم

بَلْ بَدَا لَهُمْ مَّا كَانُوا يُخْفُونَ مِن قَبْلُ ۖ

(داسی نه ده لکه چه دوی وائی) بلکه ظاهر شو دوی ته هغه چه وو دوی چه پټول به ئی پخوا (له دی نه په دنیا کښی چه کفر او معاصی دی)

**تفسیر:** یعنی دوی اوس هم په صحیح عزم او ایمانی شوق او رغبت دنیا ته د بیرته ورتګ هیله (امید) نه کوی بلکه کله چه ئی د هغه عمل د مکافاتو او مجازاتو منظره ولیدله چه د ښکاره دلائلو سره ئی تری انکار کاوه او الٰهی عذاب ئی د سر په سترګو مشاهده کړ او د دوی تول هغه بد عملونه چه د خلقو له سترګو څخه پټ وو د لمر غوندی څرګند او د دوی اوسنی دروغ چه «والله ربنا ماکنا مشرکین» وایی ښکاره شول او د دوی د شرارت پټ او له سترګو پناه آثار چه د دغو نالایقانو په زړونو کښی ئی وده کړی وه مختل (مخی ته) شول او د یوه دردناک عذاب په صورت ورته ممثل او مخی ته ئی ودریدل نو اوس دوی تش د ځان نجات له پاره دنیا ته د بیرته ورتګ هیله (امید) کوی.

وَلَوْ رُدُّوا لَعَادُوا لِمَا نُهُوا عَنْهُ وَإِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴿٢٨﴾

او که بیرته بوتله شی دوی (دنیا ته) نو خامخا به بیا هم راوګرځی دوی همغه شی ته چه منع کړی شوی وو دوی له هغه شی څخه (چه کفر او معاصی دی) او بیشکه دوی هرومرو دروغجنان دی (په دغه دعویٰ د ایمان کښی)

**تفسیر:** یعنی اوس هم دروغ وائی چه که مونږ دنیا ته بیرته لاړ شو ایماندار به وګرځو او له سره به د آیات الله تکذیب ونه کړو. خو دا اشقیاء که بیرته دنیا ته هم ستانه (واپس) کړل شی نو بیا به هم له شرارت او بدی څخه لاس نه اخلی، او هغه رذیله قوتونه چه د دوی په وجود کښی شته، بیا به ئی په کار اچوی، او له هغه مصیبت څخه چه ویریدلی وو او د بیرته تللو تمنا ئی کړی وه هغه به لکه یو خوب او خیال هیروی. لکه چه ډیر ځلی کله چه سری په دنیوی مصائبو او مهالکو کښی آخته کیږی نو انابت او توبه غوره کوی ولی هم دا چه څو ورځی تیری شی. بیا ئی هیڅ شی په یاد نه پاتی کیږی، چه په هغه وخت کښی می څه عهد او پیمان کړی

كَاَنۡ لَّمۡ يَدۡعُنَاۤ اِلٰى ضُرٍّ مَّسَّهٗ

وَقَالُوۡۤا اِنۡ هِىَ اِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنۡيَا وَمَا نَحۡنُ بِمَبۡعُوۡثِيۡنَ ﴿۲۹﴾

او وائی دوی نه دی ژوندون مگر هم دا ژوندون زمونږ دنیوی (چه لږ او نژدی دی) او نه یو مونږ بیا راپاڅولی شوی (راپاڅیدونکی له قبرونو څخه حساب او کتاب ته).

**تفسیر:** یعنی ښی مزی کوئ! او دنیوی عیش او عشرت مو د آخرت په فکر او اندیښنه کښی مه خرابوئ. هم دا حال نن ورځ د اروپائی (یورپین) ماده پرستانو هم دی.

وَلَوۡ تَرٰۤى اِذۡ وُقِفُوۡا عَلٰى رَبِّهِمۡ‌ؕ قَالَ اَلَيۡسَ هٰذَا بِالۡحَـقِّ‌ؕ
قَالُوۡا بَلٰى وَرَبِّنَا‌ؕ قَالَ فَذُوۡقُوا الۡعَذَابَ بِمَا كُنۡتُمۡ تَكۡفُرُوۡنَ ﴿۳۰﴾

او که ووینی ته (ای محمده!) هغه وخت چه ودرولی شی دوی رب خپل ته (په موقف د عرض کښی د حساب له پاره نو وبه وینی یو لوی امر) فرمائی به (الله) آیا نه دی دا (دوهم ژوندون) په حقه سره؟ وبه وائی دوی هو! حق دی! قسم مو دی په رب خپل (نو بیا به) وفرمائی (الله) پس وڅکئ تاسی دا عذاب په سبب د دی چه وئ تاسی چه کافران شوی وئ (په دنیا کښی).

**تفسیر:** یعنی کله چه حقیقت د دوی تر سترګو لاندی راشی او د«بعث بعدالموت» او نورو له اقراره څه چاره ورپاتی نشی، نو دلته دوی ته ویل کیږی، چه اوس د حقیقت د انکار او د «کفر بالمعاد» خوند وڅکئ!.

قَدۡ خَسِرَ الَّذِيۡنَ كَذَّبُوۡا بِلِقَآءِ اللّٰهِ‌ؕ حَتّٰۤى اِذَا جَآءَتۡهُمُ السَّاعَةُ بَغۡتَةً قَالُوۡا يٰحَسۡرَتَنَا
عَلٰى مَا فَرَّطۡنَا فِيۡهَا ۙ وَهُمۡ يَحۡمِلُوۡنَ اَوۡزَارَهُمۡ عَلٰى ظُهُوۡرِهِمۡ‌ؕ اَلَا سَآءَ مَا يَزِرُوۡنَ ﴿۳۱﴾

په تحقيق زيانكاران (او تباه) شوي دي هغه كسان چه دروغ گڼي ملاقات له الله سره (په عقبا كښي)، تر هغه پورې كله چه راشي دوى ته قيامت ناڅاپه (نو) وائي به دوى اې افسوسه (او پښيماني) زمونږ په هغه شي چه تقصير كړې ؤ مونږ په دنيا كښي (چه هغه ايمان ؤ) حال دا چه دوى به واخلي (پيټي د) گناهونو خپلو پر شاؤ خپلو واورئ خبردار شئ چه بد دي هغه شي چه په شا ئي گرځوي دوى.

**تفسير:** يعني د انسان لوى شقاوت او بدبختي دا ده چه له «لقاء الله» څخه انكار وكړي. او د ژوندانه دا ډير لوى مقصد دروغ وگڼي. تر څو چه مرگ پرې راشي. يا ئې قيامت پر سر ودريږي. بيا نو هلته د حسرت او د افسوس لاسونه سره مښي چه هاى افسوس ما په خپل دنيوي ژوندون كښي د يوم‌القيامت د تيارى له پاره څومره غير قابل تلافي تقصير كړى دى، په دې وخت كښي به له دې حسرت او افسوس څخه هيڅ شي په لاس نه ورځي. د جرمونو او شرارتونو هغه دروند پيټي به چه د ده شا كړوپوى، له دې ناوخته تأسف او تحسر سره هيڅ نه سپكيږي.

وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ ؕ وَلَلدَّارُ الْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۳۲﴾

او نه دى حيات دنيوى (ژوندون لږ خسيس) مگر لوبى (د هلكانو) او ساعت تيرى (د ليونيانو) دى او خامخا دار آخرني خير (بهتر) دى دپاره د هغو كسانو چه پرهيزگاري كوي نو آيا عقل نه چلوئ تاسي (چه دنيا ښه ده كه عقبٰى؟ چه ايمان راوړئ!).

**تفسير:** كفارو خو داسي ويل چه د دنيوي ژوندون څخه ماسواء بل هيڅ ژوندون نشته ليكن واقعه دا ده چه دغه فاني او مكدر ژوندون د اخروي ابدي حيات په مقابل كښي بيخي هيڅ او بې‌حقيقته دى. د دې دنيا په ژوندون كښي يوازې همغې شيبې او برخې ته ژوندون ويلي شي چه د آخرت له پاره پكښي څه تيارى او كار وكړ شي، باقي نور تمام وختونه چه د آخرت له فكره او تيارى څخه تش وي، يوه عاقبت انديش ته له لهو او لعب څخه څه زيات اهميت نه لري. پرهيزگاران او پوهان پوهيږي چه د دوى اصلي كور د آخرت كور دى او د هغوى حقيقي ژوندون د آخرت ژوندون دى. (اللهم ارزقناه)

قَدْ نَعْلَمُ إِنَّهُ لَيَحْزُنُكَ الَّذِي
يَقُولُونَ فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَٰكِنَّ الظَّٰلِمِينَ بِآيَٰتِ اللَّهِ
يَجْحَدُونَ ﴿٣٣﴾ وَلَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّن قَبْلِكَ فَصَبَرُوا عَلَىٰ
مَا كُذِّبُوا وَأُوذُوا حَتَّىٰ أَتَىٰهُمْ نَصْرُنَا ۚ وَلَا مُبَدِّلَ
لِكَلِمَٰتِ اللَّهِ ۚ وَلَقَدْ جَاءَكَ مِن نَّبَإِي الْمُرْسَلِينَ ﴿٣٤﴾

په تحقیق مونږ پوهیږو بیشکه شان دا دی چه خامخا خپه کوی تا (ای محمده!) هغه شی چه وائی دوی (ستا په تکذیب کښی) نو بیشکه دوی نه کوی تکذیب ستا (په واقع کښی) ولیکن دا ظالمین په آیتونو د الله انکار (او مسخری) کوی (نو ته مه خپه کیږه! ځکه چه) او خامخا په تحقیق دروغجن بللی شوی دی ډیر رسولان پخوا له تانه نو صبر به ئی کاوه پر دروغجن بلل کیدلو او ضرر رسیدلو (د کفارو له جانبه) تر هغه پوری چه راغی دوی ته مرسته (مدد) زمونږ او نشته هیڅ اړوونکی د کلماتو د الله او خامخا په تحقیق راغلی ده تاته (ځه خبره) له حالاتو د (تیرو) رسولانو (چه پری متسلی شی)

**تفسیر:** د مخلوقاتو په حال شفقت او همدردی لرل له ګرد (تول) جهان څخه زیات د نبی کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم په زړه کښی اچولی شوی وه رسول الله صلی الله علیه وسلم د دی بدبختانو د تکذیب او اعراض، او د دوی له مستقبلی تباهی، او د مشرکانه او ملحدانه کلماتو څخه زیات رنځ او صدمه محسوسه فرمایله، په دغو آیتونو کښی اول ده ته تسلی او هغو اشقیاؤ ته ډار (ویره) او انذار ورکړی شوی دی یعنی تاسی د دوی له دی اعراض او تکذیب څخه دومره مه خپه او مه پریشانیږئ! دا خلق چه ستا تکذیب کوی فی‌الحقیقت ستاسی تکذیب نه دی. ځکه چه تاسی لا له پخوا څخه بالاتفاق صادق او امین پیژندلی شوی یئ بلکه دوی د الله تعالیٰ د هغو آیتونو او نښو تکذیب کوی. چه د رسول کریم صلی الله علیه وسلم د تصدیق او تبلیغ له پاره لیږلی شوی دی او په قصد سره او د ظلم او عناد له لاری تری انکار کوی نو تاسی هم د دی ظالمانو معامله الله تعالیٰ ته وسپارئ! او مطمئن او ډاډه اوسئ چه الله تعالیٰ د دوی د ظلم نتیجه او ستاسی د صبر ثمره خامخا درکوی له پخوانیو انبیاؤ سره هم (چه د هغوی څه حالات تاسی ته آورولی شوی دی) د دوی قومونو د تکذیب او ایذاء رسولو معامله کړی وه چه پر هغو د الله تعالیٰ هغو معصومو او نهایت اولوالعزمو رسولانو صبر کاوه تر دی چه د الله تعالیٰ له وعدی سره سم دوی ته مرسته (مدد) ورسیده او د ډیرو لویو او زبردستو منکرینو او متکبرینو په مقابل کښی

دوی مظفر او منصور وګرځول شول. له تاسی سره هم د نصرت او ظفر هغه وعدی چه شوی دی، ګردی (تولی) یو په یو پوره کیدونکی دی، غر به له خپله ځایه وخوځیږی مګر د الله تعالیٰ وعده هیڅ وړاندی او وروسته کیدونکی نه ده او هرومرو (خامخا) په ځای کیږی. او هیڅوک او هیڅ قوت او قدرت د دی خبری طاقت نه لری، چه د الله تعالیٰ خبری واړوی او تبدیل ئی کړی، یعنی هر هغه شی چه الله تعالیٰ فرمایلی وی، هغه به هرومرو (خامخا) کیدونکی وی او د الله تعالیٰ له ارادی څخه پرته (علاوه) هیڅ یو کار واقع کیدونکی نه دی. مکذبین دی په یاد ولری چه د دوی جنګ حقیقتاً د (محمد صلی الله علیه وسلم) له ذاته سره نه دی، بلکه د ده له ربه سره دی، چه دی د هغه له لوری اعظم رسول او لوی معتمد تاکلی (مقرر) شوی، او سره له ښکاره دلائلو او علائمو لیږلی شوی دی. د محمد صلی الله علیه وسلم تکذیب د الله تعالیٰ د آیتونو او دلائلو تکذیب دی.

وَإِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكَ إِعْرَاضُهُمْ فَإِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ تَبْتَغِيَ نَفَقًا فِي الْأَرْضِ أَوْ سُلَّمًا فِي السَّمَاءِ فَتَأْتِيَهُمْ بِآيَةٍ ۚ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَمَعَهُمْ عَلَى الْهُدَىٰ ۚ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْجَاهِلِينَ ﴿٣٥﴾

او که وی چه سخت وی پر تا باندی مخ ګرځول د دوی (له حق دین څخه) پس که توان لری ته چه ولټوی ته کوم سوری (سرنګ) په ځمکی کښی (چه پکښی کوز شی ځمکی ته) یا (ولټوی) کومه زینه په (طرف د) آسمان (چه پری وخیژی آسمان ته) نو راوړی ته دوی ته کومه معجزه (چه دوی یی غواړی پس رایی وړه، خو فائده نه کوی نو د دوی په ایمان حرص مه کوه او تل خپل تبلیغ کوه) او که اراده کړی وی الله (د هدایت د دوی) نو هرومرو (خامخا) به ئی راتول کړی وو دوی ګرد(تول) په سمه صافه لاره پس له سره مه کیږی له ناپوهانو څخه (چه د ازلی کفارو په ایمان حرص کوی او د دوی په جهالت پخسیږی (حسد کوی)

**تفسیر:** «فان استطعت» ځواب په آیت کښی محذوف او په ترجمه کښی په «پس رائی وړه» سره مذکور دی د کفارو دا مطالبه وه کله چه دی نبی دی نو ښائی چه له ده سره تل داسی یوه علامه او نښه وی چه د هغی په لیدلو سره هر سړی پری یقین وکړی ـ او په ایمان راوړلو مجبور شی. څرنګه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د ګردی (تولی) دنیا پر هدایت حریص ؤ، ښائی د دوی په زړه کښی داسی کومه خبره تیره شوی وی چه د کفارو دا مطالبه پوره کړه شی، نو ځکه حق

تعالیٰ دا تربیت وفرمایه چه په تکوینیاتو کښې د الله تعالیٰ د مشیت تابع اوسه! تکوینی مصالح د دی خبری مقتضیٰ نه دی چه گرده (توله) دنیا په ایمان راوړلو مجبوره کړی شی که نه «الله تعالیٰ» په دی باندی هم ښه قادر ؤ چه بی له رسولانو او علائمو له ابتدا څخه گرد (تول) په سمه صافه لاره بوځی او پوره هدایت ئی ور په برخه کړی. کله چه د الله تعالیٰ حکمت د داسی مجبوروونکو معجزاتو او فرمائشی علائمو د ښوولو له پاره تیار او مقتضی نه دی نو د الله تعالیٰ د سنت او مشیت پر خلاف به بل څوک داسی طاقت او قوت له کومه ولری چه په ځمکی کښې سرنګ وکینی، یا په آسمان کښې زینه ودروی (یا پړی وځړوی) او داسی فرمائشی او مجبور، کوونکی معجزی ښکاره او وروښیی د الله تعالیٰ د تدبیر او حکمت له قوانینو څخنی پرته (علاوه) د کوم بل شی د وقوع توقع لرل، د ناپوهانو کار دی.

إِنَّمَا يَسْتَجِيبُ الَّذِينَ يَسْمَعُونَ وَالْمَوْتَىٰ يَبْعَثُهُمُ اللَّهُ ثُمَّ إِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ﴿٣٦﴾

بیشکه قبلوی بلنه ستا (ایمان ته) هغه کسان چه اوری (پند ستا، او کفار ئی نه آوری لکه مړی) او مړی به لاړ (ژوندی) کړی الله بیا خاص هم ده ته به وروستی شی دوی (د حساب او جزاء له پاره)

**تفسیر:** یعنی تاسی له گردو (تولو) څخنی داسی توقع مه لرئ چه هغوی به ستاسی خبری ومنی، د هر چا د زړه غوږونه چه کاڼه شوی وی، هغه نه اوری نو بیا به ئی هغه څرنګه ومنی. هو!، دغه کافران چه د قلبی او روحانی حیثیته د مړو په شان دی په قیامت کښې به د حقائقو په لیدلو یقین کوی او هغه گرد(تول) شیان به ومنی چه له هغو څخنی ئی انکار کاوه.

وَقَالُوا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِّن رَّبِّهِ ۚ

او وائی کفار ولی نه نازلاوه شی په دغه (محمد) باندی کومه معجزه (دلیل د قدرت) چه مونږ ئی غواړو) له (جانبه د) رب د ده،

**تفسیر:** یعنی له دغو دلایلو څخنی یو دلیل ولی راونه لیږه شو چه دوی غوښتی ؤ کما فی قوله تعالیٰ ﴿ وَقَالُوا لَن نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّىٰ تَفْجُرَ لَنَا مِنَ الْأَرْضِ يَنبُوعًا أَوْ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٌ مِّن نَّخِيلٍ وَعِنَبٍ فَتُفَجِّرَ الْأَنْهَارَ خِلَالَهَا تَفْجِيرًا أَوْ تُسْقِطَ السَّمَاءَ كَمَا زَعَمْتَ عَلَيْنَا كِسَفًا أَوْ تَأْتِيَ بِاللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ قَبِيلًا أَوْ يَكُونَ لَكَ بَيْتٌ مِّن زُخْرُفٍ أَوْ تَرْقَىٰ فِي السَّمَاءِ وَلَن نُّؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتَّىٰ تُنَزِّلَ

عَلَيْنَا كِتٰبًا نَّقْرَؤُهٗ ۗ قُلْ سُبْحَانَ رَبِّيْ هَلْ كُنْتُ اِلَّا بَشَرًا رَّسُوْلًا ﴿۹۳﴾ (١٥) جزء د بني اسرائيل (الاسراء) د سورت (١٠) رکوع ۹۰، ۹۱، ۹۲، ۹۳ آيت) او که نه هسی نوری علمي او عملي معجزی او علامی د باران په شان ډيری پر تاسي وريدلي دي او اوری به

قُلْ اِنَّ اللّٰهَ قَادِرٌ عَلٰۤى اَنْ يُّنَزِّلَ اٰيَةً وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۷﴾

ووايه (اې محمده ! دوی ته) بيشکه الله قادر دی په دې خبره چه نازل کړي (راوليږي) (مطلوبه) معجزه ليکن اکثره کسان له دوی څخني نه پوهيږي (چه هغه معجزه سبب د عذاب ده).

**تفسير:** يعنی الله تعالیٰ د فرمائشي معجزاتو له ښوونو څخه عاجز نه دی. ليکن د حکمت او رحمت پر هغو قوانينو چه د تکوينياتو نظام قايم او مبنی دی، له تاسي څخني ډير کسان د هغو له پوهيدلو څخه قاصر دی د دغو قوانينو اقتضاء هم دا ده چه ګردی (تولی) فرمائشي معجزی ورته ونه ښودلی شي.

وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِی الْاَرْضِ وَلَا طٰٓئِرٍ يَّطِيْرُ بِجَنَاحَيْهِ اِلَّاۤ اُمَمٌ اَمْثَالُكُمْ ؕ مَا فَرَّطْنَا فِی الْكِتٰبِ مِنْ شَیْءٍ ثُمَّ اِلٰى رَبِّهِمْ يُحْشَرُوْنَ ﴿۳۸﴾

او نشته هيڅ (حيوان خوځيدونکي تلونکی په ځمکه کښې او نه هيڅ مارغه چه الوځي په دواړو وزرونو خپلو (په هوا کښې) مګر (تول سره) امتونه (مخلوقات) دي په شان ستاسي نه دي پريښې مونږ په کتاب (لوح محفوظ) کښې هيڅ شي (بلکه ګرد (تول) ليکلي دي مونږ) بيا به (دا ګرد(تول)) رب خپل ته ورتول کړی شي (د حساب او جزاء دپاره).

**تفسير:** په دې آيت کښې پر ځينو هغو حکمتونو تنبيه کړې شوې ده چه د فرمائشي معجزاتو په نه ورښولو کښې مرعی ده. يعنی ګرد (تول) هغه حيوانات چه پر ځمکه خوځيږي يا په هوا کښې الوځي، دوی هم د انسانانو په شان يو امت دی. له دوی څخني هره نوعه الله تعالیٰ په يوه خاصه وضع او فطرت پيدا کړی ده، چه دوی د خپلو افعالو او خواصو په معينه دائره کښې کار کوی. او هيڅ يو ساکښ (ذی روح) د خپلو هغو افعالو او حرکاتو د محدودی حلقی له دائری څخه يو پل هم د باندی نه ږدی چه د قدرت له لوری د ده د فطرت او استعداد په اعتبار مشخص او تاکلی (مقرر) شوی دی. لکه چه د پيدايښت له ابتدا څخه تر نن پوری هيڅ يو حيوان د خپلی

نوعي د عمل په محدوده دائره کښې هيڅ قسم ترقي نه ده کړې هم داسې د هر شي استعداد او فطرت ته خيال وکړئ! د الله تعالیٰ په قديم علم او لوح محفوظ کښې د ګردو (ټولو) انواعو او اجناسو د تدبير او تربيت اصول او فروغ منضبط شوي دي. هيڅ يو شی نه په ژوندانه او نه په مرګ کښې له دې مکمل انضباط او انتظام څخه د باندې وتلی شی، انسان د حيواناتو په جنس کښې يو مختار او مترقي حيوان دی او د هم دې کسب او اختيار او ترقي کوونکي عقل او تميز په لرلو سره د ده نظام تکويني او د حيات قانون له نورو ګردو(ټولو) حيواناتو څخنې داسې اعلیٰ او ممتاز جوړ کړی دی. چه که اوس دی خپل ځان ته حيوان ووائی، شرميږي انسان د نورو حيواناتو پر خلاف د خپلو ليدلو آوريدلو او پوښتلو په اثر ځانته نوی نوی نور معلومات هم حاصلوی. او په «فکری قوه» سره ئی ترتيبوی او د «نوی ژوند» په لوری پرله پسی ترقی کوی. انسان د نيکو او بدو په تميز او د مفيدو او مضرو په پيژندلو او د آغاز او انجام په پوهيدلو قادر او د کوم عمل په کولو يا پريښودلو کښې في‌الجمله آزاد دی، نو ځکه ده ته د الله تعالیٰ له جانبه داسې علامې ښوولې کيږي چه په هغو کښې د فکر او غور کولو موقع ومونده لشي. او د فکر او کسب د فطری آزادی سلب کوونکی نه وی او که انسان د الله تعالیٰ په ورکړی شوو عقلی قواؤ سره په ښه ډول (طريقه) پکښې غور وکړی. نو ده ته به د حق او باطل او د نيک او بد په تميز کښې هيڅ مشکلات نه پيښيږی نو د داسی فرمائشی دلائلو او معجزو غوښتنه، چه له هره حيثه په ايمان راوړلو سرې مجبور کړی، د انسان د فطری آزادی له سلبولو او د ده د ترکيبی نظام له تباه کولو، بلکه د عادی حيواناتو په ډله کښې د انسانانو له ښکته غورځولو سره مرادفه ده، که فرمائشی علامې په ټولو وجوهو سره مجبوری کوونکی نه وی، نو د هغو ښوونه عبث او بيکاره ده، ځکه چه په هغو کښې هم همغه «غير ناشي عن دليل» شکونه او شبهات پيدا کيدی شی چه د زرهاؤ غير فرمائشی علامو په نسبت کړی شوی دی.

---

وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا صُمٌّ وَّبُكْمٌ فِي الظُّلُمٰتِ ۗ مَنْ يَّشَاِ اللّٰهُ يُضْلِلْهُ ۗ وَمَنْ يَّشَاْ يَجْعَلْهُ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٣٩﴾

---

او هغه کسان چه دروغ ګڼی آيتونه زمونږ کانه دی او ګونګيان دی (د حق له اوريدلو او ويلو نه) په تيارو کښې دی (د کفر او جهل)، او هر چاته چه اراده وفرمائی الله (د ګمراهی ئی) نو ګمراه کوی ئی (او د هدايت توفيق تری اخلی) او هر چاته چه اراده وفرمائی (الله د هدايت د ده) نو ګرځوی هغه په سمه صافه لاره (د حق).

---

**تفسير:** (کانه او ړانده دی چه) نه د ويونکی څخنی آوری. او نه په خپله له نورو څخنی پوښتنه

کوی، او نه په تیارو کښې څه شي لیدلی شي کله چه د دوی ګردی (تولی) قواوی د بې‌اعتدالیو له امله (وجی) بیکاره کړی شوی دی، نو د حق د تصدیق او د هغه د قبلولو له پاره څه وسیله لری؟ الله تعالیٰ د هغو کسانو د ګمراه کولو اراده فرمائی چه دوی په خپله د هدایت وسایل په خپل ځان باندی مسدود کړی وی ﴿ وَلَوْشِئْنَا لَرَفَعْنٰهُ بِهَا وَلٰكِنَّهٗٓ اَخْلَدَ اِلَى الْاَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ ﴾ ( (۹) جزء (۲۲) رکوع د الاعراف «(۱۷٦)» آیت).

---

قُلْ اَرَءَيْتَكُمْ اِنْ اَتٰىكُمْ عَذَابُ اللّٰهِ اَوْ اَتَتْكُمُ السَّاعَةُ اَغَيْرَ اللّٰهِ تَدْعُوْنَ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٤٠﴾ بَلْ اِيَّاهُ تَدْعُوْنَ فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُوْنَ اِلَيْهِ اِنْ شَآءَ وَتَنْسَوْنَ مَا تُشْرِكُوْنَ ﴿٤١﴾

---

ووایه (ای محمده! دوی ته) خبر راکړئ ماته که راشي تاسی ته عذاب د الله یا راشي پر تاسی قیامت آیا بی له الله بل څوک به بولئ تاسی (بلکه نه ئی بولئ)، که یئ تاسی صادقان (رښتینی په خپله وینا کښې) بلکه خاص هم دغه الله بولئ تاسی بیا لری کوی الله له تاسی هغه (مصیبت) چه بولئ تاسی (الله) د هغه دپاره که اراده وفرمایی او هیروئ تاسی (په وخت د سختی کښې) هغه (باطل معبودان) چه شریکوئ ئی تاسی ( له الله سره )

---

**تفسیر:** کله چه ړانده، کانه او ګونګیان شئ او د «الله تعالیٰ» آیتونه دروغ وګنئ او د ګمراهی په ژوری (خکته) کندی کښې ولویږئ که په دغه سبب په دنیا یا په قیامت کښې په سخت عذاب اخته شئ، نو رښتیا ووایئ چه بی له الله جل جلاله څنی به تاسی بل کوم یوه ته ناری وکړئ؟ د دنیا د ډیرو وړوکیو مصائبو سره هم هر کله چه مخامخ شئ نو مجبوراً همغه یوه خدای جل جلاله ته ناری کوئ، او نور ګرد (تول) شریکان ستاسی له یاده وځی ﴿ فَاِذَا رَكِبُوْا فِى الْفُلْكِ دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ﴾ له هر هغه چه الله تعالیٰ اراده وفرمائی نو هغه مصیبت تری لری کوی. نو له دی څنی اندازه وکړئ چه د عذاب له نزوله یا د قیامت له هوله به تاسی پرته (علاوه) د الله تعالیٰ څخه بل څوک وژغوری (وساتی)؟ نو بیا دا څومره حماقت او ړوندوالی دی چه د هغه پاک الله عظمت او جلال هیروئ او د ده د نازل کړی شویو آیتونو تکذیب او د فرمائشی آیتونو غوښتنه کوئ؟

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَآ إِلَىٰٓ أُمَمٍ مِّن قَبْلِكَ فَأَخَذْنَٰهُم بِٱلْبَأْسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُونَ ﴿٤٢﴾
فَلَوْلَآ إِذْ جَآءَهُم بَأْسُنَا تَضَرَّعُوا۟ وَلَٰكِن قَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ
مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٤٣﴾ فَلَمَّا نَسُوا۟ مَا ذُكِّرُوا۟ بِهِۦ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ أَبْوَٰبَ كُلِّ شَىْءٍ
حَتَّىٰٓ إِذَا فَرِحُوا۟ بِمَآ أُوتُوٓا۟ أَخَذْنَٰهُم بَغْتَةً فَإِذَا هُم مُّبْلِسُونَ ﴿٤٤﴾

---

او خامخا په تحقیق استولي وو مونږ (رسولان) ډیرو امتونو ته پخوا له تانه (ای محمده! پس دوی تکذیب وکړ د هغوی) نو ونیول مونږ دوی په سختیو او تکلیفونو سره دپاره د دی چه دوی زاری عاجزی وکړی (خپل رب ته او مؤمنان شی) نو ولی کله چه راغی دوی ته عذاب زمونږ عاجزی ونه کړه دوی (چه تری لری شوی وی عذاب) او لیکن سخت شوی ؤ زړونه د دوی (نو ځکه ئی تری عبرت وانخیست) او ښایسته کړی وه دوی ته شیطان هغه کارونه چه وو دوی چه کول به ئی پس کله چه هیر کړ دوی هغه شی چه پند ورکړی شوی ؤ دوی ته په هغه سره نو وپرانیست مونږ پر دوی باندی وروته (لاری) د هر قسم نعمت تر هغه پوری کله چه خوشال شی دوی پر هغو شیانو چه ورکړی شوی وو دوی ته (له انواعو د نعمتونو) نو ونیول مونږ دوی ناڅاپه پس ناڅاپه په دی وخت (د لیدلو د عذاب) کښی دوی ناامیده شی.

---

**تفسیر:** په تیر آیت کښی د عذاب راتللو احتمال بیان شوی ؤ، اوس د واقعاتو حواله راکوی چه په پخوانیو زمانو کښی هم داسی د عذابونو واقعات راغلی دی. او هم ئی تنبیه وکړه کله چه مجرم ته اول ځلی یوه سپکه تنبیه ورکړ شی نو ښائی دی سمدلاسه پاک الله ته رجوع وکړی. او هغه د زړه د سختی او د شیطان د اغواء له امله (وجی) سپک او معمولی ونه ګڼی (که نه شیطان به دغه بد اعمال ورته ښائسته او د شرک، کفر او عصیان په بلا کښی به ئی اخته کړی او د کبر، عجب لوئی او غرور دروازی به ئی پر مخ پرانیځی او ابدی هلاک به ور په برخه کړی).

شیطان چه لوئی وکړه په لعنت شو تر ابده
په لوئی کښی نور هیچاته خیر نشته بی له بده

په «موضح القرآن» کښی راغلی دی چه الله تعالیٰ ګنهګار ته لږ څه تنبیه ورکوی که دی ورته په زاری او عاجزی شو، او توبه ئی وایسته ـ نو خلاصیږی، او که په هغی سپکی نیونی ویښ نه

شو، نو بیا ئې په هیره او مغالطه او تفریح کښې غورځوی، او د عیش او عشرت او د وسعت دروازې ورپرانیځي کله چه د نعمتو د شکر ګزارۍ او د انعام او احسان ځنې د متأثر کیدلو په ځای شه په ګناه کښې ډوب شو ـ نو ناڅاپه بیخبره نیول کیږي نو دلته دغه لارښودنه کیږي چه که چاته پر ګناه تنبیه ورسیږي نو ژر دې توبه وکړي او دې ته دې نه ګوري چه که زیاته تنبیه وشوه نو زه به یقین وکړم.

فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِينَ ظَلَمُوا ۚ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٤٥﴾

نو پرې کړی شو بیخ د قوم هغه (قوم) چه ظلم ئې کړی ؤ او ګردې (تولې) ثناوې او صفتونه خاص الله لره دي چه پالونکی د تولو عالمیانو دی (د ظالمانو په هلاکولو سره)

**تفسیر:** د ظالمانو استیصال هم د ده د عامه ربوبیت اثر، او د عالم د مجموعي له پاره لوی رحمت دی نو ځکه دلته ئې د حمد او شکر اظهار وفرمایه.

خدایه شکر چه ظالم دې کړ بدحال
چه ئې لرې د مغزو نه شي لوی خیال
خدای رسول چه نه مني او ظلم کاندي
عنقریب به ئې برباد شي سر او مال

قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَخَذَ اللَّهُ سَمْعَكُمْ وَأَبْصَارَكُمْ وَخَتَمَ عَلَىٰ قُلُوبِكُمْ مَنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُمْ بِهِ ۗ

ووایه (ای محمده ! دوی ته) خبر راکړئ ماته که واخلي الله (قوت د) اوریدلو ستاسې (چه کاڼه شئ) او (قوت د) لیدلو ستاسې (چه ړانده شئ) او مهر ولګوي الله پر زړونو ستاسې (چه نه اوریدلی او نه لیدلی او نه په هیڅ شي پوهیدلی شئ) (نو بل) کوم معبود دی بې له الله نه چه بیرته راوړي (درکړي) تاسې ته هغه (اخستل شوي غوږونه، سترګې، زړونه او عقلونه)

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب فرمائي «یعنې په توبه کښې ځنډ (تاخیر) مه کوئ، ښائي چه دا غوږونه سترګې او زړونه په هغه وخت کښې بیا ونه مومئ» او د هغه له امله (وجې) د توبې او

استغفار توفیق درپیدا نشی.

أُنظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ ثُمَّ هُمْ يَصْدِفُوْنَ ﴿٤٦﴾ قُلْ اَرَءَيْتَكُمْ اِنْ
اَتٰىكُمْ عَذَابُ اللّٰهِ بَغْتَةً اَوْ جَهْرَةً هَلْ يُهْلَكُ اِلَّا الْقَوْمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٤٧﴾

وګوره (ای محمده !) چه څرنګه مونږ راز راز (قسم قسم) بیانوو دلائل (د وحدانیت) بیا (هم) دوی (تری) ځنګ (دډه) کوی. ووایه (ای محمده ! دوی ته) خبر راکړئ ماته که راشی تاسی ته عذاب د الله ناڅاپه (د شپی) یا ښکاره (د ورځی یعنی په هر شان چه راشی) آیا هلاک به کړی شی (په دغه عذاب سره بل څوک؟ مګر قوم ظالمان (یعنی هم دغه مشرکان پری هلاکیږی).

**تفسیر:** ناڅاپه یعنی داسی عذاب چه د هغه هیڅ علامی له پخوا څخه درښکاره نه وی نو له دی سببه د« جهرة » څخه به مراد هغه عذاب وی چه د هغه له راتلو څخه د مخه څه علامی ئی څرګندی شی یا به له « بغتة» څخه شپه او له « جهرة » څخه ورځ مراد وی (یعنی په هر شان او هر تقدیر سره چه وی). (ځینو مفسرینو د «هل یهلک ـ الایة» ترجمه داسی کړی ده آیا هلاک به کړی شی پری بل څوک هم یعنی هلاک به نه کړی هغه شی مګر قوم چه ظالمان دی.) یعنی په توبه ایستلو کښی ځنډ (تاخیر) کول نه دی په کار، ښائی چه په دغه تعطیل کښی د الله تعالیٰ عذاب وروړسیږی چه د هغه تکلیف یواځی همغو ظالمانو ته ور په غاړه کیږی که له ظلم او عدوانه ئی لا تر مخه توبه ایستلی وی. نو له دی عذاب څخه نجات مومی.

وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِيْنَ اِلَّا مُبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ ۚ فَمَنْ اٰمَنَ وَاَصْلَحَ
فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٤٨﴾ وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا
بِاٰيٰتِنَا يَمَسُّهُمُ الْعَذَابُ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ﴿٤٩﴾

او نه لیږو مونږ رسولان مګر زیری کوونکی (مؤمنانو ته په نعیم سره) او ویروونکی (کفارو ته په جحیم سره) پس هر چا چه ایمان راوړ او اصلاح ئی

کړ (عمل په طاعت سره) نو نشته (هيڅ قسم) ويره په دوی باندی او نه به دوی (هيڅکله) خپه کيږی (د ثواب په نقصان سره) او هغه کسان چه نسبت د دروغو کوی دوی آيتونو زمونږ ته وبه رسيږی دوی ته عذاب په سبب د هغه چه وو دوی چه فسق به ئی کاوه (د الله جل جلاله له طاعت څخه په وتلو)

**تفسير:** يعنی تاسی چه د الله تعالیٰ د عذاب څخه بی ويری او بی‌فکره شوی يئ او په چټی (بيکاره) فرمائشونو او بی‌ځايه پوښتنو سره رسول الله عليه الصلوٰة والسلام خپه کوئ! او د دوی د تصديق له پاره له خپله ځانه جوړ کړی معيار مو تراشلی دی ښه وپوهيږئ چه رسول صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله له طرفه د دی له پاره ليږل شوی دی چه فرمان منونکو ته زيری ورکړی او نافرمانان د دوی له انجامه خبردار او هښيار کړی بيا نو د هر چا عمل د هغه د لاری مل دی، هر چا چه د انبياؤ عليهم السلام په خبرو يقين او باور وکړ او اعتقاداً او عملاً ئی خپل حالت سم او سنبال کړ، حقيقی او دائمی امن، هوسائی (آرام) او اطمينان ئی ور په برخه شو او هغه کسان چه د الله تعالیٰ آيتونه ئی دروغ وبلل او د الله تعالیٰ له هدايته ئی مخ واړاوه، د نافرمانی او بغاوت له سببه په سخته تباهی او لوی عذاب اخته شول «العياذ بالله»

قُل لَّآ أَقُولُ لَكُمۡ عِندِي خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ وَلَآ أَقُولُ لَكُمۡ إِنِّي مَلَكٌۖ إِنۡ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّۚ قُلۡ هَلۡ يَسۡتَوِي ٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡبَصِيرُۚ أَفَلَا تَتَفَكَّرُونَ ﴿٥٠﴾

ووايه (ای محمده! دوی ته) چه نه وايم زه تاسی ته چه ما سره خزانی د الله دی (چه درکړم تاسی ته هر څه چه غواړئ!) او نه (وايم چه زه) پوهيږم په غيب باندی (چه خبروم به تاسی له هر شی نه بی له وحی) او نه وايم تاسی ته چه په تحقيق زه پرښته يم (چه وکړم په ملکی قوت سره هغه امور چه ملائک ئی کوی) نه کوم پيروی (د هيڅ شی) مگر د هغه شی چه وحی کړی شوی ده ماته (د هغه) ووايه (ای محمده! دوی ته) آيا برابر کيدی شی ړوند او ليدونکی؟ (نه ! نه سره برابريږی!) آيا نو فکر (غور) نه کوئ تاسی (چه حق له باطله بيل کړئ! او ايمان راوړئ!)

**تفسير:** په دی آيت کښی د رسالت د منصب پر حقيقت رڼا (رنړا) اچولی شوی ده، يعنی هر څوک چه د نبوت مدعی دی د ده دعویٰ داسی نه وی چه د الله تعالیٰ د مقدراتو گردی (تولی)

خزانې د ده په قبضه کښې دي چه هر کله له ده څخه د کوم امر خواهش وکړ شي هغه به ئې هرومرو (خامخا) همغسې وکړي او نورو ته به ئې وروښيي، يا پر ګردو (ټولو) غيبې او ښکاره معلوماتو که د رسالت په فرائضو پورې تعلق ولري يا نه دي مطلع کړي شوی دي چه هر شی ورڅخه وپوښتي همغه سمدلاسه هغوی ته وروښيي يا دي د بشر له نوعې څخه برسيره کوم بل نوع مخلوق دي چه د بشري لوازمو او خواصو څخنې د خپل برائت او نزاهت ثبوت دروړاندي کړي. کله چه دي له دې ګردو (ټولو) خبرو څخنې د يوې خبرې مدعي هم نه دی نو له ده څخنې د فرمائشي معجزاتو غوښتل يا د تعنت او عناد له لارې دا راز (قسم) پوښتنې کول چه «قيامت به کله راځي؟» يا د دوی داسې ويل چه «دا څنګه رسول دی چه ډوډۍ خوري؟ او بازارو ته د پيرودلو او پلورلو (بيع او شراء) (خريدوفروخت) له پاره ځي؟» دغه امور د تکذيب او تصديق له پاره معيار ګرځول صحيح نه دي. ﴿ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الْأَعْمَىٰ وَالْبَصِيرُ ﴾ ووايه اى محمده! دوی ته آيا برابر کيدی شي ړوند او ليدونکی؟ نه! نه برابريږي آيا نو، فکر، غور نه کوئ تاسي! چه حق له باطله بيل کړئ؟ او ايمان راوړئ؟! يعني اګر که رسول الله صلى الله عليه وسلم بې د بشر له نوعې څخنې له بلې کومې نوعې څخه نه دی، ليکن د ده او نورو انسانانو په منځ کښې د ځمکې او آسمان فرق دی. انساني قوتونه دوه قسمه دي علمي، عملي. د علمي قوتونو په اعتبار د نبي او غير نبي په منځ کښې د ړانده او ليدونکې په شان فرق شته، د انبياؤ عليهم السلام د زړه سترګې هر وخت د الٰهي مرضياتو او د رباني تجلياتو د ليدلو له پاره پرانستلې وي چه د هغو له بلاواسطې مشاهدې څخه نور انسانان بې برخې دي، او د عملي قوتونو حال داسې وي چه رسول صلى الله عليه وسلم په خپل قول او فعل او هر يوه حرکت او سکون کښې د الله تعالىٰ د رضاء او د رباني حکم تابع او منقاد وي، د سماوي وحيي او د الٰهي احکامو په خلاف نه د ده قدم پورته کيدی او نه ئې ژبه خوځيدی شي، د ده مقدس وجود، اخلاق او اعمال د ژوندانه په ګردو (ټولو) واقعاتو کښې د رباني تعليماتو او د الٰهي مرضياتو روڼ تصوير او ډير ښه ممثل دی، چه د هغه له ليدلو څخه غور کوونکو او فکر کوونکو ته د ده په صداقت او د خدای جل جلاله له طرفه د ده په مامور ګرځيدلو کښې لږ څه شک او شبهه نشي پاتي کيدی.

---

وَأَنذِرْ بِهِ الَّذِينَ يَخَافُونَ أَن يُحْشَرُوا إِلَىٰ رَبِّهِمْ لَيْسَ لَهُم مِّن دُونِهِ وَلِيٌّ وَلَا شَفِيعٌ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿٥١﴾

---

او وويروه (اى محمده!) په دې وحي سره هغه کسان چه ويريږي دوی له دې چه ټول به کړل شي دوی رب خپل ته په داسې حال چه نه وي دوی ته بې له دغه (الله) هيڅ ولي دوست (ناصر په دنيا کښې) او نه شفاعت کوونکی (د عذابونو دافع په آخرت کښې مګر د الله په اذن سره) دپاره د دې چه دوی

وساتي ځانونه (خپل ستا په دغه آورولو سره له معاصیو)

**تفسیر:** یعني له هغو کسانو ځني تاسي صرف نظر وکړئ چه د فرمایشي معجزاتو په ورښوولو خپل ایمان موقوفوي، او د تعنت او عناد له لوري د آیات الله په تکذیب پسي دي. ځکه چه د تبلیغ فرض تاسي اداء کړی دی او وروسته له دی نه له دوی څخه داسي توقع نه کیږي، چه په سمه صافه لاره به راشي. اوس د الٰهي وحیی قرآن کریم په ذریعه د هغو خلقو ویېرولو او تنبیه کولو ته زیات اهتمام وکړه! چه د هغو په زړونو کښي د محشر خوف او د عاقبت فکر دی ځکه چه له هم داسي خلقو څخه دا امید کیدی شي چه له پند او نصیحت څخه به مستفید او له قرآني هدایاتو څخه به منتفع شي.

وَلَا تَطْرُدِ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ
يُرِيدُونَ وَجْهَهُ ۖ مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَيْءٍ وَ
مَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِم مِّن شَيْءٍ فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُونَ مِنَ الظَّالِمِينَ ﴿٥٢﴾

او مه شړه هغه کسان چه بولي دوی (عبادت کوی د) رب خپل په اول د ورځي او په آخر د ورځي (یعني سبا او بیګا) کښي چه غواړي دوی په دی عبادت سره رضاء د) ذات د الله نشته په تا له حسابه (د اعمالو) د دوی هیڅ شي او نه له حسابه (د عمل) ستا په دوی هیڅ شي نو چه وشړی ته دوی پس شي به ته له ظالمانو څخه.

**تفسیر:** یعني هر کله چه د دوی ظاهري حال دا راښیي چه دوی شپه او ورځ د الله تعالیٰ په عبادت او رضاء غوښتلو کښي مشغول دي نو سم له دی له دوی سره مناسبه معامله وکړئ! د دوی باطني حال څه دی یا به ئی آخري انجام څه کیږي؟ د دوی پر دغه تفتیش او محاسبه باندی معاملات نشي موقوفیدی، نه ستاسي دغه حساب د دوی په غاړه دی او نه د هغو حساب ستاسي په غاړه لهٰذا بالفرض که تاسي د دولتمندانو د هدایت په طمع داسي غریبان مخلصان له خپله مجلسه وشړئ. نو دا به د بی‌انصافي خبره وی په «موضح القرآن» کښي راغلی دی چه «د کفارو ځینو سردارانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا وغوښتل چه زمونږ زړونه غواړي چه ستاسي خبری واورو، لیکن له تاسي سره خوار او غریب کسان (لکه ابن مسعود، بلال، مقداد، عمار، صهیب، خباب، سلمان رضی الله عنهم) ناست وی، نو مونږ د هغوی تر څنګ نشو کیناستی (که دوی له ځانه بیرته کړئ نو مونږ به له تا سره کینو او پاڅو، ګوندی ستا دین هم قبول کړو او

له دوی سره یو ځای په کیناستو شرمیږو نو د عمر رضی الله تعالیٰ عنه په مصلحت سره د نبی علیه السلام په زړه هم دغه خبره راغله چه هم داسی وشی ځو د دغو کفارو صدق او کذب معلوم شی) په دی خبره باندی دا آیت نازل شو. یعنی «د الله تعالیٰ د طالب لحاظ او خاطر (اګر که غریب هم وی)، پر دغو غنیانو او دولتمنو کفارو باندی مقدم دی».

وَكَذٰلِكَ فَتَنَّا بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لِّيَقُولُوٓا أَهٰٓؤُلَآءِ مَنَّ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنْۢ بَيْنِنَا ۗ أَلَيْسَ اللّٰهُ بِأَعْلَمَ بِالشّٰكِرِينَ ﴿٥٣﴾

او (لکه چه ازمویلی مو وو سابقه امم په اختلاف د احوالو د دوی) هم دا رنګه ازمویلی دی مونږ ځینی (غنیان) د دی امت په ځینو (نورو فقیرانو) له پاره د دی چه ووائی (دا غنیان) آیا هم دا (خواران) فضل کړی دی الله پر دوی په منځ زمونږ کښی (په هدایت سره) آیا نه دی الله ښه عالم په شکر کوونکو (په نعمت د اسلام بلکه دی، نو ځکه تفضلاً احسان پری کوی).

**تفسیر:** یعنی د دولتمندانو ازموینه ئی په غریبانو مسلمانانو وکړه، چه دغو مسلمانانو ته خوار او ذلیل ګوری او تعجب کوی چه آیا دوی ځرنګه د الله تعالیٰ د فضل لائق دی ـ او الله تعالیٰ د دوی زړونو ته ګوری چه د الله تعالیٰ حق منی.

وَإِذَا جَآءَكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِاٰيٰتِنَا فَقُلْ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ ۖ كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ۙ أَنَّهُ مَنْ عَمِلَ مِنْكُمْ سُوٓءًۢا بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابَ مِنْۢ بَعْدِهِ وَأَصْلَحَ فَأَنَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٥٤﴾ وَكَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ وَلِتَسْتَبِينَ سَبِيلُ الْمُجْرِمِينَ ﴿٥٥﴾ ع

او کله چه راشی تاته (ای محمده !) هغه کسان چه تصدیق کوونکی دی په آیتونو (د قرآن) زمونږ نو ووایه (ای محمده ! دوی ته) سلام دی پر تاسی لیکلی (لازم کړی) دی رب ستاسی پر ځان خپل (تفضلاً) رحمت (او داسی ئی لازم کړی دی چه) بیشکه شان دا دی هر څوک چه وکړی له تاسی ځنی

بدی په ناپوهی سره (حقیقتاً یا حکماً) بیا توبه وکړی پس له (کولو د هغی (بدی) او اصلاح کړی (ښه کړی عمل خپل) نو بیشکه الله ښه ښونکی (د خطیاتو) ډیر مهربان دی (د اجر او ثواب په انعام سره) او هم داسی (چه مو بیان کړل) په تفصیل سره بیانوو آیتونه او دپاره د ده چه ښکاره شی (حق او ظاهره شی) لاره د ګناه‌ګارانو.

---

**تفسیر:** پخوا ئی فرمایلی وو چه رسول د تبشیر او انذار له پاره راځی، لکه چه د دی رکوع په شروع کښی په ﴿وَأَنذِرْ بِهِ الَّذِينَ يَخَافُونَ﴾ الآیة - کښی د انذار د شان استعمال ؤ، اوس د مؤمنانو په شان کښی د تبشیر اظهار دی. یعنی مؤمنانو ته د کاملی سلامتی او رحمت او مغفرت بشارت ورکړه! چه د هغو غریبانو زړونه مطمئن او ډاډه شی او د دولتمنو متکبرانو له طعن او تشنیع او له تحقیر او بدسلوک څخه خپه نشی! څکه چه مونږ احکام او آیتونه هم د دی دپاره په تفصیل سره بیانوو، چه د مؤمنانو په مقابل کښی د مجرمانو طریقه واضحه شی.

**تنبیه:** دا ئی چه فرمایلی دی «هر څوک چه په ناپوهی له تاسی څخنی بدی وکړی». ښائی چه له دی څخنی دا غرض وی چه هر مؤمن چه بدی او معصیت کوی که په ناپوهئ وی یا په عمد او قصد سره وی هغه فی‌الحقیقت د هغی بدی او ګناه له بد عاقبته تر یوه حده پوری ناواقفه او بی‌خبره وی چه ئی کوی. که دی د ګناه د تباه کوونکو نتائجو څخه په پوره ډول (طریقه) خبر او مستحضر وی، نو ولی بی ئی د هغی په کولو جرأت کاوه؟

(روایت دی چه د مؤمنانو یو تولی رسول علیه السلام ته راغی او ویی ویل چه له مونږه ډیر لوی ګناهونه او تقصیرات شوی دی. نو آیا زمونږ د غفران او ښښنی څه امکان شته؟. رسول صلی الله علیه وسلم دوی ته هیڅ التفات ونه فرمایه او دغه مومنان ناامیده لاړل نو دغه پاس آیت نازل شو او داسی توبه کوونکی ته په دنیا کښی د سلامتی زیری او په عقبا کښی د رحمت بشارت ورکړ شو او د رب العزت له خوا د مغفرت لزوم تفضلاً ور مرحمت شو).

پرښتی که په مونږ ښکلی ګناهونه
پاک الله دی په څان ښکلی رحمتونه
که ګناه له مونږه ډیره شی چاپیره
پاک الله لری «غفور» «رحیم» نومونه
او رحمت ئی په غضب باندی غالب دی
څه شو څه شو که ئی دواړه دی وصفونه
څکه نیک په لسو بد په یوه ښکل شی
په قرآن کښی دی راغلی آیتونه
په رښتینی عذر زر ګناوی تولی
ښښی دی، په دی ناطق دی حدیثونه

قُلْ إِنِّي نُهِيتُ أَنْ أَعْبُدَ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ ۚ
قُل لَّا أَتَّبِعُ أَهْوَاءَكُمْ ۙ قَدْ ضَلَلْتُ إِذًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُهْتَدِينَ ﴿٥٦﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) چه بیشکه زه منع کړی شوی یم له دی نه چه عبادت وکړم د هغو شیانو چه عبادت کوئ تاسی (د هغوی) چه غیر دی له الله ووایه (ای محمده دوی ته) چه متابعت نه کوم زه د خواهشونو ستاسی (په عبادت د دوی کښی) په تحقیق به ګمراه شم زه په دغه وخت کښی او نه به یم زه له لاری موندونکو څخه.

**تفسیر:** په تیر آیت کښی هغه شیان بیان شول چه مؤمنانو ته د ویلو وړ (لائق) دی. په دی رکوع کښی د هغو امورو تذکر دی چه د مجرمانو او مکذبانو په حق کښی د خطاب قابل دی. یعنی تاسی وفرمایئ چه زما ضمیر، زما فطرت، زما عقل، زما د شهود نور (رڼرا) او د الٰهی هغه وحی چه پر ما نازلیږی دا ټول ما له دی خبری څخه منع کوی چه زه د کامل توحید له لاری څخه لږ څه قدم هم هیسته کیږدم، اګر که تاسی ډیر څه تدبیرونه او حیلی او پلمی (بهانی) هم وکړئ خو زه هیڅکله ستاسی د خوښی او غوښتنی متابعت له سره نشم کولی، که په فرض محال کوم نبی په کومه معامله کښی الٰهی وحی پریږدی او د عوامو د غوښتنو متابعت وکړی نو الله تعالیٰ چه څوک هادی ګرځولی او لیږلی ئی وی معاذ الله هغه په خپله ګمراه شی؟ بیا نو د هدایت تخم په دنیا کښی څرنګه پاتی کیدی شی؟

قُلْ إِنِّي عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّي وَكَذَّبْتُم بِهِ ۚ مَا عِندِي مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِ ۚ
إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ۖ يَقُصُّ الْحَقَّ ۖ وَهُوَ خَيْرُ الْفَاصِلِينَ ﴿٥٧﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) بیشکه زه په ښکاره دلیل (حجت) یم له ربه خپله (چه قرآن او وحی ده) او تاسی دروغ ګڼلی دی هغه دلیل نشته ما سره هغه (عذاب) چه غواړئ تاسی په تلوار سره هغه نه دی حکم (په تعجیل او تاخیر د عذاب او نورو کښی) مګر (خاص) الله ته دی بیانوی (الله) حقه (خبره) او دی خیر (بهتر) د فیصله کوونکو (یا د بیانوونکو) دی.

**تفسیر:** یعنی ماته د الله تعالیٰ صاف او صریح شهادت او واضح دلائل رارسیدلی دی چه د هغو له منلو څخه زه د یوه ویښته په اندازه هم نشم منحرف کیدی تاسی چه هغه ته د دروغو نسبت کوئ نو د هغه پای او انجام ته هم فکر وکړئ! ﴿ مَاعِنْدِیْ مَاتَسْتَعْجِلُوْنَ بِهٖ ﴾ نشته ما سره هغه عذاب چه غواړئ په تلوار سره تاسی هغه) یعنی د الٰهی عذاب د نزول واک (اختیار) زما په قدرت کښی نه دی لکه چه کفارو ویل ﴿ اللّٰهُمَّ اِنْ كَانَ هٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَاَمْطِرْ عَلَیْنَا حِجَارَةً مِّنَ السَّمَآءِ اَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ اَلِیْمٍ ﴾ ای الٰهه که دا حق وی چه مونږ ئی دروغ ګڼو نو له آسمانه پر مونږ تیږی (ګټی) راوورِوه یا پر مونږ سخت عذاب راولیږه!»

قُلْ لَّوْ اَنَّ عِنْدِیْ مَا تَسْتَعْجِلُوْنَ بِهٖ لَقُضِیَ الْاَمْرُ بَیْنِیْ وَبَیْنَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالظّٰلِمِیْنَ ﴿۵۸﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) که په تحقیق وی ما سره هغه شی چه تاسی په تلوار سره غواړئ هغه (چه عذاب دی نو) خامخا فیصله شوی به وه جګړه په منځ زما او په منځ ستاسی کښی (په هلاک ستاسی لیکن تعذیب د الله کار دی) او الله ښه عالم دی په ظالمانو (او په وخت د عذابولو د دوی)

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ پر هر چا او په هر وخت او هر ډول (طریقه) چه اراده وفرمائی عذاب لیږی، یا ئی نه لیږی یا ورته د توبی او استغفار توفیق مرحمت فرمائی، دا ګرد (ټول) د الله تعالیٰ په اختیار او قبضه کښی دی، او ماسواء له الله د بل هیچا حکم او زور نه چلیږی الله جل جلاله په دلائلو او براهینو سره حق بیانوی بیا ئی که څوک ونه منی نو د دوی په نسبت ډیر ښه فیصله کوونکی هم دی دی، که دغه فیصله کول یا سزا ورکول زما په قبضه او اختیار کښی وی او د دغه نزول عذاب ژر غوښتونکو له ما څخه داسی په شدت سره د عذاب د نزول مطالبه کولی نو ما به لا له پخوا څخه دا جګړه پای (آخر) ته رسولی وی، دا خو د الله تعالیٰ د محیط علم، عظیم حلم بالغه حکمت او کامله قدرت رڼا (رڼرا) او الطاف دی چه د ډیرو مصالحو او حکمتونو رعایت کوی او سره له ښه پوهیدلو او قدرت لرلو پر ظالمانو فوراً عذاب نه نازلوی، په راتلونکو آیتونو کښی د دی محیط علم او کامله قدرت ذکر راځی څو ثابت شی چه د عذاب تاخیر د جهل یا عجز په بناء نه دی.

وَعِنْدَهٗ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَآ اِلَّا هُوَ ؕ وَيَعْلَمُ مَا فِى الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ؕ وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَّرَقَةٍ اِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِىْ ظُلُمٰتِ الْاَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَّلَا يَابِسٍ اِلَّا فِىْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ﴿٥٩﴾

او خاص هم دغه الله سره دی کلی گانی (کنجیانی) د خزانی د غیب چه نه پوهیږی په هغو (بل هیڅوک) مګر (عالم دی پری) هم دی او پوهیږی الله په هغه چه په بر (وچه) کښی او په بحر (دریاب) کښی دی او نه لویږی هیڅ یوه پانه (له ونی) مګر چه عالم دی په هغه الله او نه (لویږی کومه) دانه په تیارو د ځمکی کښی او نه دی هیڅ لوند او نه هیڅ وچ مګر (ثابت شوی دی) په کتاب مبین (لوح محفوظ) کښی

**تفسیر:** یعنی د هر شی احوال په لوح محفوظ کښی مندرج دی. او هر هغه شیان چه په لوح محفوظ کښی دی هغه ټول په علم الله کښی لا له پخوا څخه موجود وو. په دغه اعتبار د دی آیت مضمون حاصل داسی شو چه د ﴿ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ﴾ هیڅ یو وچ او لوند وړوکی او لوی شی د الله تعالیٰ د ازلی علم له محیط نه خارج کیدی نشی، بناء په دی د دی ظالمانو د ظاهری او باطنی احوالو، او د دوی د سزا ورکولو د مناسب وخت او محل پوره او صحیح علم له ده سره شته.

**تنبیه:** هغه علماء چه «مفاتح» د «مفتح» بفتح‌المیم جمع وائی دوی د«مفاتح الغیب» ترجمه په «غیبی خزانو» سره کری دی او د هغوی په نزد چه د مفتح بکسر المیم جمع ده هغوی د«مفاتح الغیب» ترجمه سم د شیخ الهند رحمة الله علیه له ترجمی سره په غیبی کلی‌گانو (کنجیانو) کوی. مطلب دا چه غیبی خزانی او د هغو کلی‌گانی (کنجیانی) یوائی د الله تعالیٰ په قدرت کښی دی هم دی له دغو خزانو څنی هر وخت، هر څومره او هر چاته چه اراده وفرمائی وریرانیځی بل هیڅوک داسی قدرت نه لری چه د خپلو حواسو او عقل او د نورو ادراکی آلاتو په ذریعه تر غیبی علومو پوری ورسیږی، یا په هومره غیبو کښی چه په ده منکشف کری شوی وی، له خپله لوری څه زیاتوالی وکری. ځکه چه د غیبی علومو کلی‌گانی (کنجیانی) ده ته په لاس نه دی ورکری شوی. اګر که په لکونو او کرورونو غیبی جزئیاتو او واقعاتو کوم یو بنده مطلع کری شوی وی خو بیا هم د غیب اصول او کلیت (چه «مفاتیح الغیب» او «مفاتح الغیب» ورته ویل کیږی) حق تعالیٰ خپل ځانته مخصوص کری دی.

وَهُوَ الَّذِي يَتَوَفَّىٰكُم بِاللَّيْلِ وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُم بِالنَّهَارِ ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ فِيهِ لِيُقْضَىٰٓ أَجَلٌ مُّسَمًّى ۖ
ثُمَّ إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ ثُمَّ يُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٦٠﴾

او الله هغه (لوی ذات) دی چه وفاتوی (حصاروی او ویده کوی) تاسی په شپه کښې او پوهیږی په هر هغه څه چه کسب کړی وی تاسی په ورځی کښې (له طاعت او معصیت څخه) بیا پاڅوی تاسی (له خوبه) په دغه (ورځ) کښې چه پوره کړ شی اجل (نیته) مقرره شوی، بیا خاص هم ده ته بیرته ورتلل ستاسی دی بیا به خبر کړی (الله) تاسی په (جزاء) د هغه څه چه وئ تاسی چه کول به مو. (په دنیا کښې له خیر او شره)

**تفسیر:** یعنی د شپې د ویدیدلو په وخت کښې ظاهری احساس او شعور نه پاتی کیږی او انسان له خپلی شاؤخوا بلکه د خپل جسم له احواله هم بی‌خبره پاتی وی ـ ګواکی په دغه وخت کښې دغه قوه له ده څخه اخیستی شوی ده. (او پوهیږی الله په هر هغه څه چه کسب کړی دی تاسی په ورځی کښې له طاعت او معصیت څخه) یعنی په ورځ کښې څومره تګ، راتګ، نقل، حرکت، کسب او اکتساب چه واقع کیږی هغه تول په پوره تفصیل سره د الله تعالیٰ په علم کښې موجود دی. (بیا پاڅوی تاسی له خوبه په دی ورځ کښې دپاره د دی چه پوره کړی شی اجل «نیته» مقرره شوی). یعنی که ده اراده کړی وی نو تاسی همغسی چه ویده وئ، ویده به پاتی وی ـ لیکن د مرګ د نیتی تر پوره کیدلو پوری تاسی در ګرده (تول) راویښوی. (بیا خاص هم ده ته بیرته ورتلل ستاسی دی بیا به خبر کړی دی تاسی په جزا د هغه څه چه وئ تاسی چه کول به مو په دنیا کښې له خیر او شره) یعنی د ورځی کار کول او د شپې ویدیدل. او بیا سبا پاڅیدل، دا هره ورځنی منظمه سلسله د دنیوی ژوندون او وروسی مړ کیدلو او بیا ژوندی کیدلو، یوه لنده نمونه ده نو ځکه د خوب او بیداری د یادونی په وسیله د«معاد» پر مسئله هم تنبیه کړی شوی ده.

وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِۦ ۖ وَيُرْسِلُ عَلَيْكُمْ حَفَظَةً حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَحَدَكُمُ
الْمَوْتُ تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا وَهُمْ لَا يُفَرِّطُونَ ﴿٦١﴾

او هم دی دی غالب د پاسه په بندګانو خپلو او لیږی پر تاسی ساتونکی (له ملائکو چه هغه لیکونکی د اعمالو ستاسی کرام‌الکاتبین دی) تر هغه پوری کله

چه راشي يو ستاسي ته مرگ قبضوی روح د ده ليږلي شوی (پرښتي زمونږ چه ستاسي د ارواحو د قبضولو دپاره ليږلي کيږي) او دوی هيڅ تقصير نه کوی (د امر په امتثال کښي د اجل له پوره کيدلو څخه وروسته).

**تفسير:** «حفظة» يعني هغه پرښتي چه تاسي او ستاسي اعمال ساتي.
**فائده:** د دغو ملائکو په ليږلو کښي ښائي دغه حکمت او مصلحت وی چه مؤمنان د قيامت له شرمندگی او رسوائی څخه ووېرېږی، او له سره گناه ته زړه ښه نه کړی او د خپلی اعمالنامی له لوستلو څخه په محشر کښي د عامو په محضر کښي غافل او بی پروا نشی! څو د قيامت د ورځی له شرمندگی او رسوائی څخه مأمون او مصون پاتی شی.

ويره وکړه له شرمونو د قيامته
چه تری زړونه وينی کيږی له هيبته
د عمل کاغذ به درکړی شي چه لوله
نن دی ډکه کړه نامه له ښه خصلته
چه سبا بيا ژړا وير نه پکاريږی
نن ژړا کړه دم په دم له معصيته

﴿ حَتّٰٓى اِذَا جَآءَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ ﴾ الآية - تر هغه پوری کله چه راشي يو ستاسي ته مرگ قبضوی روح د ده ليږلي شوی پرښتي زمونږ چه ستاسي د ارواحو د قبضولو دپاره ليږلي کيږی او دوی هيڅ تقصير نه کوی د امر په امتثال کښي د اجل پوره کيدلو څخه وروسته) يعني په هر ډول (هرقسم) چه ستاسي د روح د قبضولو حکم کيږی په هغه کښي دوی هيڅ قسم رعايت يا تقصير، (او د روح په قبضولو کښي هيڅ ډول (طريقه) تعجيل او تاخير نه کوی کله ئی چه اجل په سر رسيدلی وی.)

ثُمَّ رُدُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ مَوْلٰىهُمُ الْحَقِّ ؕ اَلَا لَهُ الْحُكْمُ ۗ وَهُوَ اَسْرَعُ الْحٰسِبِيْنَ ﴿٦٢﴾

بيا نه بيرته وروستل شي دوی طرف د الله ته (د خپل عمل د جزا له پاره) چه مولیٰ (مالک) د دوی دی حق (عادل) واورئ! خبردار شئ! خاص هم ده ته دی حکم او هم دی ډير جلت دی له ټولو حسابگرو.

**تفسیر:** یعني په یوه رپ (لحظه) کښې د انسان د تول عمر حسنات او سیئات ورښکاره کوی.

قُلْ مَنْ يُّنَجِّيْكُمْ مِّنْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ تَدْعُوْنَهٗ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً ۚ لَئِنْ اَنْجٰىنَا مِنْ هٰذِهٖ
لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿٦٣﴾ قُلِ اللّٰهُ يُنَجِّيْكُمْ مِّنْهَا وَمِنْ كُلِّ كَرْبٍ ثُمَّ اَنْتُمْ تُشْرِكُوْنَ ﴿٦٤﴾

ووایه (ای محمده!) څوک به خلاص کړی تاسی له تیارو د بر (وچی) او د بحر (دریاب څخه په هغه وخت کښې چه) دعاء کوئ تاسی الله نه په ښکاره او په پټه سره (او داسی وایئ چه قسم دی) که خلاص کړی (الله) مونږ له دی تیارو (او سختیو) څخه نو هرومرو شو به مونږ خامخا له شکر ایستونکو څخه (د نجات په دغه نعمت) ووایه (ای محمده! دوی ته) چه الله خلاصوی تاسی له دی (تیارو او سختیو) او له هری سختی څخه بیا هم (پس له دغه نجاته) تاسی شریکوئ (له الله سره نور په عبادت کښې).

**تفسیر:** یعني حق تعالیٰ سره له هغه محیط علم او کامل قدرت چه (لږ څه) بیان ئی پاس وشو، فوراً ستاسی د بد عملیو او شرارتونو سزا نه درکوی، بلکه څه مهال (وخت) چه د مصائبو او شدائدو په تیارو کښې اخته کیږئ! او هغه په عاجزی او زاری سره یادوئ! او پخه وعده کوئ! چه «د دی مصیبت څخه له وتلو وروسته به بیا هیڅیری شرارت نه کوؤ، او تل به ستا احسان په یاد لرو» نو دیر ځلی الله جل جلاله ستاسی لاس نیسی، او له دغو مهالکو او هر قسم سختیو څخه مو ژغوری (محفوظوی)، لیکن بیا هم تاسی په خپلو وعدو ټینګ نه دریږئ، او د مصیبت له آزادی څخه وروسته بیا سمدلاسه په بغاوت او یاغیتوب لاس پوری کوئ.

قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلٰٓى اَنْ يَّبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّنْ فَوْقِكُمْ اَوْ مِنْ تَحْتِ اَرْجُلِكُمْ اَوْ يَلْبِسَكُمْ
شِيَعًا وَّيُذِيْقَ بَعْضَكُمْ بَاْسَ بَعْضٍ ۗ اُنْظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُوْنَ ﴿٦٥﴾

ووایه (ای محمده!) هم دغه (الله) قادر دی په دی چه ولیږی په تاسی عذاب له

پاسه ستاسي (لکه د لوط قوم او اصحاب فيل) يا له لاندي د پښو ستاسي (لکه فرعونيان او قارون) يا گډ کړي تاسي فرقي فرقي (چه هره فرقه به بيله بيله مدعا لري او دغه مخالفت د مقاتلي سبب شي) او وروڅکوي (الله) ځينو ستاسي ته جنگ (او سختي) د ځينو (نورو) وگوره (اى محمده) څرنگه راز راز (قسم قسم) بيانوو مونږ آيتونه (خپل) له پاره د دي چه دوي پوه شي (پري او پند تري واخلي).

**تفسير:** يعني د الله تعالىٰ د دي مهلت او گذشت له ليدلو څخه بيغي مامون او بي فکره مه کيږئ همغسي چه له دي سختيو او مصيبتونو څخه نجات درکولي شي په دي هم قادر دي چه يو بل راز (قسم) عذاب هم پر تاسي مسلط کړي. ﴿ مِّن فَوْقِكُمْ ﴾ الآية ـ له پاسه ستاسي لکه د لوط قوم او اصحاب‌الفيل يا له لاندي د پښو ستاسي لکه قارون او فرعونيان يا گډ کړي تاسي فرقي فرقي چه هره فرقه بيله بيله مدعا لري او دغه مخالفت د مقاتلي سبب شي او الله وروڅکوي ځينو ستاسي ته جنگ او سختي د ځينو نورو په دي کښي ئې د دري ډولو (قسمو) عذابونو بيان وفرمايه،

(۱): هغه چه له پاسه راځي لکه د تيږو (گټو) وريدل، يا طوفاني هوا يا باران.

(۲): هغه چه له پښو لاندي راځي لکه خسف، زلزله، سيلاو يا نور (يا مراد له «فوق» څخه نه وريدل د باران دي او له «تحت» څخه نه زرغونيدل د غلي دي)، دا دواړه خارجي او د باندني عذابونه دي چه پر پخوانيو اقوامو مسلط شوي وو. د رسول الله صلى الله عليه وسلم په دعاء سره زمونږ محمدي امت له داسي عمومي عذاب څخه محفوظ شوي دي، يعني داسي عام عذاب چه د دي امت استيصال او بيخ‌کني وکړي لکه چه په پخوانيو امتونو مسلطيده (بفضل الله وکرمه) په دي امت نه نازليږي، که جزئ او خصوصي واقعي پيښي شي نو د هغو نفي نه ده شوي.

(۳): عذاب چه ښائي داخلي عذاب ورته وويل شي، د دي امت په حق کښي باقي پاتي دي چه هغه گوند او گوندبازي (پارټي بازي) او په خپلو منځو کښي سره جنگ، جنجال، جگړي او ويني تويول دي. په «موضح القرآن» کښي دي چه په «قرآن شريف کښي زياترو کافرانو ته د عذاب وعده ورکړي شوي ده دلته ئې دا راڅرگنده کړه چه دا هم عذاب دي چه پر پخوانيو امتو باندي له آسمانه يا له ځمکي څخه نازل شوي دي او دا هم عذاب دي چه انسانان يو او بل په جنگ سره واچوي، او دوي قتل وکړي يا ئې قيد يا ئې ذليل کړي رسول الله مبارک وپوهيد چه پر دغه امت وروستني عذاب نازليږي. ﴿ وَعَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ او «عذاب مهين» او «عذاب شديد» او «عذاب عظيم» زياتره هم دغو وروستني عذاب ته ويل کيږي او د آخرت عذاب هم يوازي پر همغو کسانو هميشه مسلط کيږي چه په کفر کښي مره شوي دي او (مره کيږي).

﴿ انظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْآيَاتِ لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُونَ ﴾ وگوره اى محمده! څرنگه مونږ راز راز (قسم قسم) بيانوو آيتونه خپل له پاره د دي چه دوي پوه شي پري يعني په قرآن کريم يا د عذاب په راتگ، ځکه دوي

داسی ګنل چه دا ګردی (تولی) دروغ او چتی (بیکاره) ویروونکی خبری دی عذاب یا نور شیان
له سره نه راځی.

وَكَذَّبَ بِهِ قَوْمُكَ وَهُوَ الْحَقُّ ۚ قُلْ لَّسْتُ عَلَيْكُمْ بِوَكِيلٍ ﴿٦٦﴾
لِّكُلِّ نَبَإٍ مُّسْتَقَرٌّ ۚ وَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٦٧﴾

او دروغ وباله دا قرآن (یا دغه عذاب) قوم ستا (یعنی قریشو) حال دا چه دغه (قرآن یا عذاب) حق دی ووایه (ای محمده! دوی ته) نه یم زه په تاسی وکیل (ساتونکی) هری خبری ته یو وخت مقرر دی او ژر به (پری) وپوهیږئ تاسی.

**تفسیر:** یعنی زما وظیفه دا نه ده چه ستاسی په تکذیبونو زه په خپله پر تاسی عذاب نازل کړم یا د هغه وخت یا نوعیت یا نور تفصیلات دروښیم ـ زما کار یواځی پوهول او تنبیه کول دی (دا د قتال د امر څخه پخوا ؤ) له دی نه زیات د هر شی د وقوع خصوصیات د الله تعالیٰ په علم کښی مقدر، او وخت ئی مقرر دی، هر وخت چه ئی نیته ورسیږی نو تاسی به په خپله پری خبر شئ، چه هغه شیان چه ما تاسی تری ویرولئ هغه تر کومه ځایه پوری رښتیا دی؟.

وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتَّىٰ
يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ ۚ وَإِمَّا يُنْسِيَنَّكَ الشَّيْطَانُ فَلَا تَقْعُدْ
بَعْدَ الذِّكْرَىٰ مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿٦٨﴾

او کله چه ووینی ته هغه کسان چه جګړی کوی (طعن ورپوری تړی، مسخری پری کوی ننوځی غوتی وهی) په آیتونو زمونږ کښی نو مخ واړوه له دوی نه (او ورسره مه کښینه! او که ناست وی تری پاڅیږه)! تر هغی پوری چه مشغول شی دوی په خبرو (نورو کښی) غیر له قرآن څخه او که هیر کړ له تانه (دا اعراض او څنګ کول) شیطان نو مه کښینه وروسته له یادیدلو (د دی منعی) سره له قوم ظالمانو.

**تفسير:** يعني هغه خلق چه د آيات الله په طعن، استهزاء او په ناحقه تنقيدونو كښې مشغول دي، او خپل ځانونه د عذاب مستحق گرځوي، تاسي له هغو سره ناسته ولاړه مه كوئ! او گډون او راشه درشه ورسره مه كوئ! څو تاسي هم د هغو په دله كښې گډ نه شئ! او د عذاب مورد ونه گرځئ! لكه چه په بل ځاى كښې فرمائي! ﴿ إِنَّكُمْ إِذًا مِّثْلُهُمْ ﴾ د يوه مؤمن د غيرت تقاضا دا نه ده چه په داسي مجلسونو كښې گډون وكړي لازم دي چه تل ترې كناره او په څنگ وي! او كه كله ناخاپه يا سهواً پكښې شريك شي، نو له ياديدلو څخه وروسته له هغه ځايه پاڅيږي ځكه چه په هم دي كښې د عاقبت سمون (برابري)، د دين سلامتي او طعن او استهزاء كوونكو ته عملي نصيحت او تنبيه ده.

---

وَمَا عَلَى الَّذِينَ يَتَّقُونَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَيْءٍ وَلَٰكِن ذِكْرَىٰ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿٦٩﴾

---

او نشته پر هغو كسانو چه پرهيزگاري كوي له حسابه د دغو (جگړه كونكو په آيات الله تمسخراً) څخه هيڅ شي (له گناه) وليكن (دوى باندى) پند وركول دى دپاره د دى چه ځان وساتي دوى (د هغو كسانو د مجلس له گډون څخه چه په قرآن پورى تمسخر كوى)

---

**تفسير:** د دى آيت دوه معناگانى كيدى شي يعني كه پرهيزگاران د جگړى كوونكو او طعنويونكو له مجلس څخه پاڅيږي، او له دوى ځني جلا (جدا) كيږي، نو د طاعنينو له گمراهي او د دوى د ضلالت له دوام څخه هيڅ يوه مؤاخذه او ضرر پر دغو متقيانو نشي راتلى هو! د دوى په ذمه د استطاعت په اندازه او له موقع سره مناسب نصيحت كول دى ښائي چه هغه بدبختان د نصيحت له اوريدلو څخه په خپل خير او شر وپوهيږي، او له خپله انجامه وويريږي. يا دا مطلب دى چه كه پرهيزگارانو او محتاطانو ته د كومي معتد به ديني يا دنيوي واقعي د ضرورت له امله (وجى) د دوى په مجلس كښې د دخول او د ورتگ ضرورت پيښ شي ـ نو دوى ته د طاعنينو د گناه او پوښتنو هيڅ يو اثر نه ورسيږي ـ هو! د دوى په ذمه د قدرت په شرط نصيحت كول دى ممكن دى چه كوم وخت په دوى باندى د نصيحت اثر ولويږي.

---

وَذَرِ الَّذِينَ اتَّخَذُوا دِينَهُمْ لَعِبًا وَلَهْوًا وَغَرَّتْهُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا

وَ ذَكِّرْ بِهٖٓ اَنْ تُبْسَلَ نَفْسٌۢ بِمَا كَسَبَتْ ۖۗ لَيْسَ لَهَا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيٌّ وَّلَا شَفِيْعٌ ۚ وَاِنْ تَعْدِلْ كُلَّ عَدْلٍ لَّا يُؤْخَذْ مِنْهَا ۗ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اُبْسِلُوْا بِمَا كَسَبُوْا ۚ لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيْمٍ وَّعَذَابٌ اَلِيْمٌۢ بِمَا كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ ۝

او پريږده ته هغه كسان چه گرځولى دى دوى دين خپل (چه پرى مكلف وو) لوبى او عبث (چه پرى مسخرى كوى) او غره كړى (غولولى) دى دوى لره حيات دنيوى (ژوندون لږ خسيس نو ځكه منكران شوى دى له حشره) او پند وركوه ته په دغه (قرآن سره خلقو ته) څو (ونه) سپارل شى(هلاک ته) هيڅ نفس په سبب د هغه عمل چه كړى ئى وى. حال دا چه نه وى دغه نفس ته بى له الله نه كوم ولى (دوست مانع د آفت په دنيا كښى) او نه شفاعتگر (دافع د مصيبت په عقبا كښى)، او كه فديه وركړى (دا نفس) هر قسم فديه نو وابه نه خيستى شى دا (فديه يعنى قبوله به نشى له دى نفس څخه) دا (مذكورين چه دين ئى لهو او لعب نيولى دى) هغه كسان دى چه سپارلى شوى دى (هلاک ته) په سبب د هغو كارونو چه كړى دى دوى، شته دوى لره څښل له ډيرو گرمو اوبو او عذاب دى دردناک په سبب د دى چه وو دوى چه كافران كيدل.

**تفسير:** يعنى خپل هغه دين چه قبلول ئى د دوى په ذمه فرض ؤ او هغه د اسلام دين دى.

﴿ وَّغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ﴾ او غره كړى (غولولى) دى دوى لره دنيوى حيات او ژوندون لږ خسيس نو ځكه منكران شوى دى له حشره) يعنى د دنيا په لذتونو مست شول، او عاقبت ئى هير كړ، او مطمئن او بيغمه زړه كيناستل. ﴿ وَذَكِّرْ بِهٖٓ اَنْ تُبْسَلَ نَفْسٌۢ بِمَا كَسَبَتْ ﴾ الآية -

او پند وركوه په دغه قرآن سره خلقو ته څو ونه سپارل شى هلاک ته هيڅ نفس په سبب د هغه عمل چه كړى ئى وى - حال دا چه نه وى دغه نفس ته بى له الله نه كوم ولى دوست مانع د آفت په دنيا او نه شفاعتگر دافع د مصيبت په عقبا كښى او كه فديه وركړى دا نفس هر قسم فديه نو وا به نه خيستى شى دا فديه او قبوله به نشى له دى نفس څخه يعنى داسى خلقو ته چه د تكذيب او استهزاء په گناهونو نيولى شوى وى هيڅ دوست او ملگرى نه پيدا كيږى چه له دوى سره څه مدد او مرسته وكړى، او په زور ئى له الٰهى عذابه وژغورى (محفوظ كړى)، او نه به كوم سپارښت كوونكى ولرى، چه په سعى او سپارښت سره د دوى څه كار وكړى شى او نه ترى كوم قسم فديه او معاوضه قبليږى. بالفرض كه كوم مجرم وغواړى چه توله دنيا د خپل عذاب په بدل او معاوضه

کېږي ورکړي، او ځان خلاص کړي، بيا هم نشي خلاصيدی. ﴿ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ أُبْسِلُوا بِمَا كَسَبُوا ﴾ الآية - دا مذکورين چه دين ئې لهو او لعب نيولي دي هغه کسان دي چه سپارلي شوي دي هلاک ته په سبب د هغو کارونو چه کړي دي دوی، شته دوی لره څښل (څکل) له ډيرو ګرمو اوبو او عذاب دی دردناک په سبب د دې چه وو دوی چه کافران کيدل. په تيرآيت کښې خاص د هغو کسانو له مجلس څخه د په څنګ کيدلو حکم ؤ چه پکښې ئې د آيات الله په نسبت طعن، استهزاء او ناحقه جګړې کولې په دې آيت کښې د داسې خلقو له عمومي مجالست او مصاحبت کولو ځنې د ممانعت ارشاد دی ـ مګر داسې حکم هم ورسره شوی دی چه هغو ته نصيحت هم کوئ! څو هغوی هم له خپل انجام څخه خبر شي.

قُلْ أَنَدْعُوا مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنفَعُنَا وَلَا يَضُرُّنَا وَنُرَدُّ عَلَىٰ أَعْقَابِنَا بَعْدَ إِذْ هَدَانَا اللَّهُ كَالَّذِي اسْتَهْوَتْهُ الشَّيَاطِينُ فِي الْأَرْضِ حَيْرَانَ لَهُ أَصْحَابٌ يَدْعُونَهُ إِلَى الْهُدَى ائْتِنَا ط

ووايه (اې محمده! دوی ته) آيا عبادت وکړو مونږ غير له الله نه هغه شي ته چه نه نفع رسولی شي مونږ ته او نه تاوان رسولی شي مونږ ته او بيرته وګرځولی شو مونږ په پوندو خپلو (شرک) ته وروسته له هغه چه سمه صافه لاره وښووله مونږ ته الله په شان د هغه سړي چه بيولي وي دی پيريانو په ځمکه (چول بيابان) کښې په داسې حال کښې چه (له ورکيدلو د لارې) حيران وي، ده لره ملګري وي بولي دوی دا سړی (له ډيره شفقته) په لوري د سمې صافې لارې چه (ورته وائي) راځه مونږ ته!

**تفسير:** يعني د مسلمانانو شان دا دی چه ګمراهانو ته نصيحت وکړي، او په سمه صافه لاره ئې راولي. او تل د دغې خبرې په فکر او انديښنې کښې وي چه هغه کسان چه له الله جل جلاله څخه تښتيدلي دي او د غير الله په ورونو (دروازو) کښې ئې خپل سرونه ايښي دي چه څه شان سره ئې د واحد خدای دربار ته نژدې کړي، او دې ته ئې راواړوي چه الله تعالیٰ ته سر په سجده کيږدي. ښه! نو له داسې موحد، مبلغ او مجاهد بنده ځنې دا توقع کول، فضول ده چه دی به د ماسواء الله په مخ کښې خپل سر تيت کړي چه د دغو غيرالله په قبضه کښې نه نفع شته نه نقصان يا به د اهل باطل د صحبت له امله (وجې) د توحيد او ايمان سمه لاره پريږدي، او د شرک او نورو غولونکو شيانو په لوري به ژر ژر په خپلو پوندو ولاړ شي که معاذ الله داسې وشو، نو د ده مثال د هغه مسافر په شان دی چه په لاره بلدو خپلو ملګرو سره په يوه چول او بيابان کښې سفر

کوی او ناڅاپه بیابانی غول (خبیث جن) ئی وغولوی ـ او لاره تری ورکه کړی ـ دی په څلورو خواؤ کښی پریشان او سرګردان ګرځی ـ او د ده ملګری د ده د خیر غوښتلو له پاره ورناری کړی چه، «زمونږ په لوری راځه! چه سمه صافه لاره، دا ده» مګر دی د حیرانی او مخبوط الحواسی په حالت کښی په هیڅ شی نه پوهیږی، او د دوی په لوری هم نه ورځی. هم داسی وپوهیږئ! چه د آخرت مسافر ته هم د اسلام او توحید سمه صافه لاره تاکلی (مقرر) شوی ده ـ او هغه څوک چه د هغه په رفاقت او معیت سره دغه سفر طی کیږی هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم او د ده تابعان دی ـ کله چه دا بدبخت د شیطانانو او مضلانو په منګلو کښی ورشی او د ضلالت په بیدیا کښی سرګردانه ګرځی ـ د ده هادیان او رفیقان د همدردی له لاری دی د حق د لاری په طرف رابولی، مګر دی هیڅ نه آوری او نه پوهیږی. نو ای د اشرارو دلی! ستاسی هم دا مقصد دی چه مونږ له خپلو ځانونو څخه هم داسی مثال جوړ کړو؟ دا آیت د هغو مشرکانو په ځواب کښی نازل شوی دی چه دوی له مسلمانانو څخه د اسلام د ترک غوښتنه کړی وه.

---

قُلْ إِنَّ هُدَى اللَّهِ هُوَ الْهُدَىٰ ۖ وَأُمِرْنَا لِنُسْلِمَ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٧١﴾ وَأَنْ أَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَاتَّقُوهُ ۚ وَهُوَ الَّذِي إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٧٢﴾ وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ ۖ وَيَوْمَ يَقُولُ كُن فَيَكُونُ ۚ قَوْلُهُ الْحَقُّ ۚ وَلَهُ الْمُلْكُ يَوْمَ يُنفَخُ فِي الصُّورِ ۚ عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ۚ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ ﴿٧٣﴾

---

ووایه (ای محمده! دوی ته) چه بیشکه هدایت د الله (اسلام) هم دا دی هدایت (نه نور)، او امر (حکم) کړی شوی دی مونږ ته چه اسلام راوړو (غاړه کیږدو) رب (پالونکی) د تمامو عالمیانو ته. او بل په دی (حکم شوی دی مونږ ته) چه قائموئ (سم اداء کوئ سره له تولو حقوقو) تاسی لمونځ او وویریږئ تاسی له دغه (الله) نه او دغه (الله) همغه ذات دی چه ده ته به ورتول کړل شئ تاسی (په قیامت کښی). او دغه (الله) همغه ذات دی چه پیدا کړی ئی دی آسمانونه او ځمکه په حقه سره (نه بی فائدی) او (یاده کړه) هغه ورځ چه وبه وائی (الله هر شی ته) چه موجود شه! (یعنی پیدا شه!) نو موجود (یعنی پیدا) به شی خبره د دغه (الله) حقه (رښتیا) ده او خاص دغه (الله)

لره دی ملک (سلطنت) په هغه ورځ کښې چه پوکی وکړ شی په صور (شپیلی) کښې عالم دی (الله) په تولو پټو او ښکاره ؤ او هم دی دی ښه حکمت والا (چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی) خبردار (ښه پوه په هر شی).

**تفسیر:** په دغی ورځی د قیامت کښې به په ظاهری او مجازی ډول (طریقه) هم د ماسواء الله څخه د بل چا سلطنت نه وی. ﴿ لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ ﴾ یعنی هغه الله جل جلاله چه داسی صفات لری چه ذکر ئی په دغو دریو آیتونو کښې وشو هغه د دی لائق دی چه مونږ ئی د فرمان تابع اوسو، او د ده په مخ کښې خپل انتهائی عبودیت اظهار او اختیار کړو» او په هره شیبه کښې تری ویریږو او د هم دی خبری حکم پر مونږ شوی دی چه له دغه حکم څخه په هیڅ حالت کښې مخ نشو ګرځولی.

وَإِذْ قَالَ إِبْرٰهِيمُ لِأَبِيهِ آزَرَ أَتَتَّخِذُ أَصْنَامًا آلِهَةً إِنِّي أَرٰكَ وَقَوْمَكَ فِي ضَلٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٧٤﴾

او (یاد کړه ! ای محمده !) هغه وخت چه وویل ابراهیم پلار خپل آزر ته آیا نیسی ته بتان په خدائی سره، بیشکه چه زه وینم تا او قوم ستا په ګمراهی ښکاره کښې.

**تفسیر:** په پخوانیو آیتونو کښې د توحید اثبات او د شرک نفی او د مسلمانانو له ارتداده کافران مایوس کړی شوی وو۔ دلته د موحد اعظم (حضرت ابراهیم علیه وعلیٰ نبینا الصلوٰة والسلام) په واقعه سره د هغو تاکید مطلوب دی او ضمناً مسلمانانو ته د دی خبری پوهول مقصود دی چه مکذبانو او معاندانو ته په څه ډول (طریقه) سره پند او نصیحت ورکول په کار دی؟ او څرنګه له دوی څخه بیلیدل لازم دی؟ او یو قانت مؤمن په واحد خدای څنګه اعتماد او توکل ولری؟ او له هم ده څخه وویریږی او د همغه د حکم او فرمان تابع اوسی. ﴿ لِأَبِيهِ آزَرَ ﴾ پلار خپل آزر ته) د انسابو عالمانو د حضرت ابراهیم علیه السلام د پلار نوم«تارخ» لیکلی دی ممکن چه «تارخ» ئی نوم او « آزر» ئی لقب وی ابن کثیر رحمة الله علیه له مجاهد رحمة الله علیه او نورو څخنی نقل کړی دی چه « آزر» د بت نوم ؤ، ښائی د هغه بت په خدمت کښې د ډیر پاتی کیدلو له امله (وجی) د ده لقب « آزر» کیښود شوی وی. والله اعلم. ﴿ أَتَتَّخِذُ أَصْنَامًا آلِهَةً ﴾ الآیة ـ آیا ته نیسی بتان په خدائی سره بیشکه چه زه وینم تا او قوم ستا په ګمراهی ښکاره کښې. له دی نه به صافه او صریحه ګمراهی بله څه وی؟ چه اکرم المخلوقات «انسان» د

خپلو لاسونو جوړی کړی تیږو (ګټو) او نورو ته د خدائی نوم او درجه ورکړی او د هغه په مخ
کښی سر په سجده پریوځی او له هغه څخه خپل مراد وغواړی.

وَكَذٰلِكَ نُرِيٓ اِبْرٰهِيْمَ مَلَكُوْتَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلِيَكُوْنَ مِنَ الْمُوْقِنِيْنَ ۝۷۵

او (لکه چه مو وروښوده ابراهیم ته د ده د قوم د ګمراهی قبحه) هم دا رنګه ښیو مونږ ابراهیم ته عجائبات د آسمانونو او د ځمکی (دپاره د دی چه دلیل ونیسی په وحدانیت زما) او له پاره د دی چه شی له یقین کوونکو (عیاناً هم لکه چه ؤ بیاناً).

**تفسیر:** یعنی همغسی چه د بت پرستی شناعت او قبح او بدی مونږه حضرت ابراهیم علیه السلام ته ظاهره کړه، او د هغه قوم مو پری قائل کړ، هم داسی د علویاتو او سفلیاتو د ترکیبی نظام له اعماقو او نهایت محکمو او عجیبو او غریبو اسرارو څخه هم مونږ ابراهیم علیه السلام مطلع کړ، چه د هغو په لیدلو د الله تعالیٰ پر وجود او وحدانیت او د الوهیت په نورو صفاتو او د ارضی او سماوی مخلوقاتو پر محکومانه عجز او بیچارګئ استدلال ونیسی او د خپل قوم د کواکب پرستی او هیکل سازی عقیده هم علیٰ وجه البصیرت رده کړی، او دی په خپله هم د حق الیقین په اعلیٰ مرتبه فائز شی. بلاشبهه د جهان دا اکمل او احکم او دیر ښه نظم او نسق هم داسی یو شی دی چه د هغه له لیدلو څخه بالبداهت هر څوک په دغسی اقرار کولو مجبوریږی چه د دی عظیم الشان مشین جوړوونکی او چلوونکی او په دیر مضبوط ترتیب او سلیقه د دی پرزو نښلوونکی او سازوونکی او د زرهاؤ او لکونو کلونو رائیسی ئی پر هم دغی یوی اندازی ساتونکی ډیر زبردست حکیم او لوی قدیر صانع دی چه د هغه د حکیمانه تصرف او نفوذ او اقتدار څخه د دی مشین هیڅ یوه وړوکی یا لویه پرزه د باندی نشی وتلی، دا کار هم داسی په خپل سر له اتفاقه یا له بیشعوره طبیعته یا د ړندی او کڼی مادی له لاسه نه دی پوره د یوروپ مشهور او معروف حکیم «نیوتن» وائی «د کواکبو اوسنی حرکات ممکن نه دی چه محض د جاذبی د عام قوت د فعل نتیجه وی، دا د جاذبی قوت خو کواکب د لمر په لوری ورتیل وهی، نو ځکه د کواکبو د حرکت ورکولو له پاره د لمر په چار چاپیر کښی د خدائی قوت او قدرت وجود ضروری دی، چه دوی د جاذبی قوت د عام کشش سره سره په خپلو مداراتو قائم ودروی او هم داسی ئی په حرکت کښی وساتی، هیڅ یو داسی طبیعی سبب نشته چه د هغه په اثر ګرد (تول) کواکب په تشه فضا کښی داسی منظم او مرتب یو له بل تړلی وساتی، او یو له بل سره ئی داسی وتړی چه تول د لمر په اطرافو کښی سره حرکت وکړی، او تل په معینو مداراتو او په یوه خاصه خوا، جهت کښی حرکت وکړی، او په هغه کښی له سره تخلف پیښ نشی، بیا د کواکبو په حرکاتو او د درجاتو په سرعت کښی حرکت او د لمر تر منځ د مسافی له کتلو څخه هغه دقیق تناسب

او عمیق توازن چه قائم ایښود شوی دی هیڅ یو طبیعی سبب نشته چه په هغو باندی مونږ دغه منظم او محفوظ نوامیس وترلی شو، نو ضرور دغه اقرار ته مجبور او اړ کیږو چه دا ګرد (تول) نظام د داسی یو زبردست حکیم او علیم تر قدرت او حکم لاندی دی چه دا د ګردو (تولو) سماوی اجرامو په موادو او د هغو په کمیاتو پوره عالم او واقف دی، همغه ته دغه خبره ښه معلومه ده چه له کومی مادی ځنی او له کوم مقدار څخه څومره د جاذبی قوت صادریږی؟ هغه په خپل زبردست قوت او اندازی سره د کواکبو او شمس په منځ کښی داسی مختلف مسافتونه او د حرکت مختلف مدارج مقرر کړی دی چه له سره د یوه له بل سره تصادم او تزاحم نه وی، او جهان د داسی تصادم او تکر خوړلو په اثر تباه او فنا نشی. هر یو وړوکی او لوی ستوری د نهایت مضبوط نظام په اساس په معین وخت طلوع او غروب کوی. کله چه کوم ستوری غروب، او دنیا له خپله هغه فیضه او تاثیره محرومه کړی چه د هغه د طلوع په وخت کښی حاصل ؤ، نو نه د هغه ستوری او نه د نورو مخلوقاتو په واک (اختیار) او قدرت کښی دغه خبره شته چه هغه ستوری د یوی شیبی له مخی هم بیرته راولی، یا ئی له غروبه ستون کړی.»

دا د ربالعٰالمین شان دی چه په هر وخت کښی پر هر قسم افاضه قادر او پر هر شی او له هیڅ یوه عمل څخه عاجز نه دی بلکه قادر دی ﴿ وَالشَّمْسُ تَجْرِي لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ وَالْقَمَرَ قَدَّرْنَاهُ مَنَازِلَ حَتَّىٰ عَادَ كَالْعُرْجُونِ الْقَدِيمِ لَا الشَّمْسُ يَنبَغِي لَهَا أَن تُدْرِكَ الْقَمَرَ وَلَا اللَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ وَكُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ ﴾ او بله نښه د قدرت زمونږ دغو منکرانو لره لمر دی چه ځی او روان دی همیشه هغه قرارګاه ته چه مقرره ده ده لره په خپلی تاکلی (مقرر) لاری باندی، دغه جریان د لمر، اندازه کول د هغه الله دی چه ښه غالب او قوی دی په باچاهی خپله کښی ښه دانا دی په مخلوق خپل او سپوږمی لره اندازه کړی دی مونږ منزلونه تر هغه پوری چه بیرته وګرځی یعنی شی دا سپوږمی پس له کماله هم نری او هم کږه لکه وچه کلکه څانګه د خرما چه له ډیر وچوالی کږه شوی وی لکه لینده، نه دی لمر داسی چه ښائی ده لره یعنی صحیح او آسانه وی چه لاندی کړی سپوږمی او ورته وررسیږی په زمان یا مکان یا صفت یا په کمال یا په منافع او نه شپه رومبی کیدونکی ده په ورځی او دا تول چه دی یعنی لمر سپوږمی او ستوری ګرد (تول) په فلک کښی لامبو وهی او فراخ پکښی روان دی. «۲۳ جزء د یٰسین ۳۸ تر ٤٠ آیت ۳ رکوع» دا د علویاتو حال دی نو د سفلیاتو اندازه هم له هم دی څخه ولګوئ!. هم دغه تکوینی عجائب او ملکوت السمٰوات والارض دی چه د هغو له لیدلو څخه د ابراهیم علیه السلام پر ژبه ﴿ لَا أُحِبُّ الْآفِلِينَ ﴾ او د ﴿ إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ ﴾ الآیة - جملی ناڅاپه بی‌ساخته جاری شوی چه په وروستنی آیت کښی ئی لولو (کماتدل علیه الفاء فی قول الله تعالیٰ ﴿ فَلَمَّا جَنَّ ﴾

---

﴿ فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ اللَّيْلُ رَأَىٰ كَوْكَبًا قَالَ هَٰذَا رَبِّي فَلَمَّا أَفَلَ قَالَ لَا أُحِبُّ الْآفِلِينَ ﴾ ٧٦

نو کله چه تیاره شوه په ده باندی شپه نو ولید (ابراهیم) یو ستوری، ویی ویل دا رب زما دی، (ستاسی په زعم سره)، نو کله چه غروب ئی وکړ (غائب شو) وویل (ابراهیم) چه زه دوست نه گڼم غروب کوونکی (غائبیدونکی چه په خدائی ئی ونیسم بلکه بد ئی گڼم).

**تفسیر:** آیا څوک دا خبره خوښوی چه یو مجبور بندی او بیګاری سری د شهنشاهی پر تخت کینوی؟ پاتی شو د «ابراهیم علیه السلام» ﴿ هٰذَا رَبِّیْ ﴾ ویل، یا خو د استفهام انکاری په لهجه دی. یعنی آیا هم دا زما رب دی؟ یا د تهکم (قهر) او تبکیت (سرزنش) په ډول (طریقه) ئی ویلی دی یعنی هم دا دی رب زما ستاسی له عقیدی او گمان سره سم، لکه چه موسیٰ علیه السلام فرمایلی دی ﴿ وَانْظُرْ اِلٰٓى اِلٰهِكَ الَّذِیْ ظَلْتَ عَلَیْهِ عَاكِفًا ﴾ ای فی زعمک پرته (علاوه) له دی نه د مفسرینو نور اقوال هم شته مگر زمونږ په خیال هم دا راجح ده. والله اعلم.

فَلَمَّا رَاَ الْقَمَرَ بَازِغًا قَالَ هٰذَا رَبِّیْ ۚ فَلَمَّآ اَفَلَ قَالَ لَئِنْ لَّمْ یَهْدِنِیْ رَبِّیْ لَاَكُوْنَنَّ مِنَ الْقَوْمِ الضَّآلِّیْنَ ﴿۷۷﴾

پس کله چه ولیده (ابراهیم سپوږمی راختونکی ځلیدونکی وویل (ابراهیم) دا رب زما دی (ستاسی په زعم سره)، نو کله چه غروب ئی وکړ (غائبه شوه) وویل (ابراهیم) قسم دی که هدایت ونه کړی ماته رب زما نو هرومرو (خامخا) به گرځم ضرور له قومه گمراهانو.

**تفسیر:** څرنګه چه سپوږمی ډیر حسین او ځلیدونکی ستوری دی، که الله جل جلاله د سری لاس ونه نیسی نو بیشکه چه انسان د هغه په ځلیدلو او ښائست مفتون کیږی.

فَلَمَّا رَاَ الشَّمْسَ بَازِغَةً قَالَ هٰذَا رَبِّیْ هٰذَآ اَكْبَرُ ۚ فَلَمَّآ اَفَلَتْ قَالَ یٰقَوْمِ اِنِّیْ بَرِیْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ﴿۷۸﴾

بیا کله چه ولید (ابراهیم) لمر راختونکی (ځلیدونکی) وویل (ابراهیم) دا

دی رب زما (ستاسی په زعم سره) دا (له گردو (تولو) څخه) لوی دی، پس
کله چه (لمر هم) غروب وکړ (غائب شو) وویل (ابراهیم) ای قومه زما
بیشکه زه یم بیزار له هغو شیانو چه تاسی (ئی) شریکوئ (له الله سره)

**تفسیر:** یعنی په فلکی نظام کښی له گردو (تولو) څخه لویه او له تولو څخنی فیض رسوونکی سیاره لمر دی او ښائی د مادی عالم هیڅ یو شی به بالواسطه یا بلاواسطه د دغه د تاثیر له فیضه مستغنی نه وی. مگر دغه گرد (تول) لمر، سپوږمی، ستوری او نور گرد (تول) د الله تعالیٰ مخلوق او د هغه تابعان دی، چه په معین وخت زمونږ په نظر راځی او هیڅ یو له دوی څخه داسی قدرت او توان نه لری چه یوه شیبه هم له خپله ځایه څه تقدیم او تاخیر وکولی شی، یا په خپل سر کوم حرکت وکړی نو بیا دی مخلوق ته د خالق تعالیٰ حقوق ورکول او شریک گرځول څومره سپین سترگی او گستاخی؟ او په کومه اندازه د نفرت وړ (لائق) یو کار دی؟

إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَٰوٰتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفًا وَّمَآ أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿٧٩﴾

بیشکه ما گرځولی (متوجه کړی) می دی مخ خپل هغه ذات ته چه پیدا کړی
ئی دی اسمانونه او ځمکه حال دا چه حنیف یم (گرځیدونکی یم له گردو
(تولو) باطلو ادیانو څخه حق دین ته) او نه یم زه له مشرکانو.

**تفسیر:** یعنی له گردو (تولو) مخلوقو څخنی یوه لوری ته شوی، صرف د خالق جل وعلا لوی دربار ئی تینگ ونیو چه د هغه په قدرت کښی گرد (تول) علویات او سفلیات دی

وَحَآجَّهُ قَوْمُهُ ۚ قَالَ أَتُحَٰٓجُّوٓنِّي فِي اللَّهِ وَقَدْ هَدَىٰنِ ۚ

او جگړه وکړه له ده سره قوم د ده (په توحید کښی) وویل (ابراهیم) آیا
جگړه کوئ تاسی له ما سره په (وحدانیت د) الله کښی حال دا چه په تحقیق
هدایت کړی (لاره د توحید ښوولی ده الله) ماته

**تفسیر:** یعنی هغه چاته چه الله تعالیٰ پوهه ورکړی وی، او د «ملکوت السمٰوات والارض سیر علیٰ وجه البصیرت» ئی کړی وی نو آیا له ده څخه داسی امید لرئ چه دی به ستاسی له داسی جگړو او چتی (بیکاره) جنگونو او له بی فائدی مباحثو څخنی به بی لاری کیږی؟ هیڅکله به داسی نه

کیږي.

وَلَآ اَخَافُ مَا تُشۡرِكُوۡنَ بِهٖۤ اِلَّاۤ اَنۡ يَّشَآءَ رَبِّىۡ شَيۡـًٔا ‌ؕ وَسِعَ رَبِّىۡ كُلَّ شَىۡءٍ عِلۡمًا ‌ؕ اَفَلَا تَتَذَكَّرُوۡنَ ۝٨٠

او نه ویرېږم له (ضرره د) هغو (بتانو) چه تاسي ئې شریکان کوئ له الله سره (په هیڅ وخت) مګر چه اراده وفرمائي رب زما د څه (تکلیف رسولو ما لره نو رسولې ئې شي)، احاطه کړې ده رب زما په ټولو شیانو له جهته د علم آیا نو تاسي پند نه آخلئ (فکر نه کوئ او عاجز له قادره نشئ بیلولئ)

**تفسیر:** د «حضرت ابراهیم علیه السلام» قوم به ویل چه ته زمونږ د معبودانو توهین کوې، نو وویرېږه چه چیرې ته د هغه له وباله لیونی نشي (معاذالله)، یا په بل کوم مصیبت کښې اخته نشي نو د هغه ځواب داسي ورکوی چه «زه به له دوی نه ولې ویرېږم؟ ځکه چه د دوی په لاس کښې نفع، نقصان، راحت او زحمت هیڅ یو شی نشته، هو! که زما پروردګار ماته څه تکلیف راورسوی نو له هغه څخه په دنیا کښې هیڅوک نه دی مستثنیٰ هم ده ته په خپل محیط علم سره معلومه ده چه کوم یو سړی په کوم یو حالت کښې ښائی ژوندون وکړی او کوم شی به ورته وړ (لائق) او مناسب وی».

وَكَيۡفَ اَخَافُ مَاۤ اَشۡرَكۡتُمۡ وَلَا تَخَافُوۡنَ اَنَّكُمۡ اَشۡرَكۡتُمۡ بِاللّٰهِ مَا لَمۡ يُنَزِّلۡ بِهٖ عَلَيۡكُمۡ سُلۡطٰنًا ‌ؕ

او څرنګه به ویرېږم زه له هغو (بتانو) چه شریکان کړي دي تاسي (له الله سره په عبادت کښې) او نه ویرېږئ تاسي له دې چه بیشکه تاسي شریک کړی دی له الله سره هغه شی چه نه دی رالیږلی (الله) په (شریک کولو) د هغه پر تاسي هیڅ برهان (دلیل سند)

**تفسیر:** یعنی ستاسي له معبودانو څخني به زه ولې ویرېږم حال دا چه د دوی په واک (اختیار) او قبضه کښې نه نفع ده نه ضرر او نه د توحید غوره کول کوم جرم دی چه له هغه څخه به زه اندیښنه کوم هو! تاسي د الله تعالیٰ باغیان او مجرمان یئ، او الله تعالیٰ د نفع او ضرر مالک هم

دی نو تاسی ته له خپلو جرائمو ځنې ویره په کار ده.

فَأَيُّ الْفَرِيقَيْنِ أَحَقُّ بِالْأَمْنِ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨١﴾ الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ أُولَٰئِكَ لَهُمُ الْأَمْنُ وَهُمْ مُهْتَدُونَ ﴿٨٢﴾

نو کومه یوه له دی دواړو ډلو څخه مستحقه او لایقه ده په امن سره (له عذابه د الله ووایئ!) که یئ تاسی چه پوهیږئ (په دی چه له چانه ویره پکار ده؟ کله چه دوی لاځواب شول، نو په خپله الله ځواب فرمائی) هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی (یقین لرونکی دی) او نه دی ګډ کړی دوی ایمان (یقین) خپل له ظلم (له لوی نقصان سره چه شرک دی) دغه کسان (چه خپل ایمان ئی له شرکه ساتلی دی) هم دوی لره شته امن (له عذابه) او هم دوی دی لار موندونکی.

**تفسیر:** په صحیحو احادیثو کښی منقول دی چه کریم نبی علیه افضل الصلوٰة والتسلیم دلته د ظلم تفسیر په شرک سره فرمایلی دی، لکه چه په (۲۱ جزء) د لقمان د سورت په (۱۳) آیت (۲) رکوع کښی دی ﴿ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ﴾ ګواکی د ظلم تنوین د تعظیم له پاره دی. نو د مضمون حاصل به داسی کیږی چه «مأمون او مهتدی یواځی همغه کسان کیدی شی چه داسی یقین ولری چه په هغه کښی د شرک هیڅ اثر او شبه نه وی» او که سره له یقین لرلو په الله تعالیٰ شرک پری نږدی، نو هغه شرعی ایمان نه دی او نه ئی د هغه په وسیله امن او هدایت په برخه کیدی شی، وهو کماقال الله تعالیٰ ﴿ وَمَا يُؤْمِنُ أَكْثَرُهُمْ بِاللَّهِ إِلَّا وَهُمْ مُشْرِكُونَ ﴾ (۱۳ جزء د یوسف علیه السلام د سورة ۱۰٦ آیت ۱۲ رکوع) څرنګه چه د شرک او د ایمان یو ځای کیدل په ظاهر ډول (طریقه) سره مستبعد ؤ نو ځکه محقق شیخ الهند قدس سره د تسهیل او تفهیم په غرض د ایمان ترجمه په یقین سره او د ظلم په نقصان سره کړی ده چه د عربی لغت په لحاظ بیخی سمه او موافقه ده، کمافی قوله تعالیٰ ﴿ وَلَمْ تَظْلِمْ مِنْهُ شَيْئًا ﴾ او له دی نقصان څخه به مراد هم دغه شرک وی، لکه چه په احادیثو کښی تصریح شوی ده او په خپله د کلام په نظم کښی د«لبس» لفظ د هغه قرینه ده، منقول دی کله چه دغه آیت نازل شو اصحاب کرام رضوان الله تعالیٰ علیهم اجمعین سخت وویریدل. او دغه امر پر هغوی ډیر شاق او درونډ واقع شو، بالاخر ئی د رسول علیه السلام په حضور کښی عرض وکړ، «**اینالم یظلم نفسه یا رسول الله**» صلی الله علیه وسلم! په مونږ کښی کوم یو سړی به داسی وی چه پر خپل ځان باندی ئی ظلم نه وی کړی» نو په دغه تقدیر سره مونږ ګرد (تول) د الله جل جلاله له عذابه غیر مأمون، او له هدایته محروم شوو؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم د اصحابو په ځواب کښی داسی ارشاد وفرمایل

«لیس ذلک ! انماهو الشرک . الم تسمعوا قول لقمان لابنِهِ ﴿ يٰبُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ اِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ ﴾ یعنی په ﴿ وَلَمْ يَلْبِسُوْٓا اِيْمَانَهُمْ بِظُلْمٍ ﴾ کښی له ظلم څخه شرک مراد دی او مطلقه ګناه تری مراده نه ده نو په دغه صورت تاسی ته هیڅ تردد او اندیښنه نه ده په کار. اګر که مفسرینو او محدثینو پر دغه آیت راز راز (قسم قسم) تقریرونه او بیانونه کړی دی. مګر په دغه ترجمه کښی د هغو ګرد (تول) مطالب پکښی ثابت پراته دی.

وَتِلْكَ حُجَّتُنَآ اٰتَيْنٰهَآ اِبْرٰهِيْمَ عَلٰى قَوْمِهٖ ؕ نَرْفَعُ دَرَجٰتٍ مَّنْ نَّشَآءُ ؕ اِنَّ رَبَّكَ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ ﴿٨٣﴾

او دا (چه تیر شو) دلیل زمونږ دی چه ورکړی ؤ مونږ هغه ابراهیم ته په (مقابله د) قوم د ده چه پر دوی غالب شی پورته کوو مونږ درجی هر چاته چه اراده وفرمایو (د پورته کولو ئی) بیشکه رب ستا ډیر حکمت والا دی (چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی) ښه عالم (په تولو احوالو)

**تفسیر:** یعنی ابراهیم علیه السلام ته داسی قاهره دلائل ورکول، او هغه ته په خپل قوم باندی بری عطا کول، او په دنیا او آخرت کښی هغه سرلوړی ګرځول، د همغه علیم او حکیم له کارونو څخه کیدی شی چه د هر سړی استعداد او قابلیت ورته معلوم دی، او په خپل حکمت سره هر شی د هغه په مناسبه موقع او مقام کښی ږدی.

وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ ؕ كُلًّا هَدَيْنَا ۚ وَنُوْحًا هَدَيْنَا مِنْ قَبْلُ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهٖ
دَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ وَاَيُّوْبَ وَيُوْسُفَ وَمُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ؕ وَكَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٨٤﴾

او وباښه مونږ ابراهیم ته اسحٰق (چه د ده زوی او د اسرائیلی انبیاؤ پلار دی) او یعقوب (مو هم وروباښه چه لمسی ئی ؤ، دغو) تولو ته هدایت کړی ؤ مونږ، او نوح ته مو هدایت کړی ؤ له (ابراهیم څخه) پخوا او (هدایت مو کړی ؤ) اولادی د ده څخنی داؤد او سلیمان ته او ایوب او یوسف ته او موسیٰ او هارون ته او هم داسی لکه چه (دغو انبیاؤ ته مو بدل ورکړ) بدل ورکوو

مونږ محسنانو (نیکوکارانو ته).

**تفسیر:** یعنی نه یواځی دا چه مونږ ابراهیم علیه السلام په ذاتی علم او فضل سره سرلوړی کړ، بلکه په زړښت کښې د اسحٰق علیه السلام په شان زوی او یعقوب علیه السلام غوندی لمسی مو هم وروباښه، یعقوب علیه السلام همغه (اسرائیل) دی چه ده ته د دنیا یو عظیم الشان قوم، بنی اسرآئیل منسوب دی چه په زرهاؤ انبیاء پکښې مبعوث شوی دی. بلکه همغسی چه د قرآن کریم په یو بل ځای کښې مذکور دی وروسته له ابراهیم علیه السلام د الله تعالیٰ له جانبه نبوت د ده په اولاده کښې ایښود شوی دی. ﴿ وَنُوحًا هَدَيْنَا ﴾ او نوح ته مو هدایت کړی ؤ پخوا له ابراهیم څخه پخوا د ابراهیم علیه السلام د ځینو فروعو ذکر وشو، اوس د ده د ځینو اصولو ذکر هم فرمائی، ځکه چه نوح علیه السلام د حضرت ابراهیم علیه السلام له اجدادو څخنی دی (او د پلار نیکه شرافت ځامنو ته هدایت او سعادت دی) هم داسی چه وروسته له ابراهیم علیه السلام څخه د نبوت او کتاب انحصار یواځی د ده په ذریاتو کښې پاتی دی، همغسی وروسته له نوح علیه السلام څخه د انسانی نوعی انحصار د نوح علیه السلام په نسل کښې منحصر دی. ګواکی پس له طوفانه نوح علیه السلام دی دنیا ته (آدم) ثانی شو. ﴿ وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُ هُمُ الْبَاقِينَ ﴾ ﴿ وَمِن ذُرِّيَّتِهِ ﴾ الآیة - او هدایت مو کړی ؤ له اولادی د ده څخنی داؤد او سلیمان ته او ایوب أو یوسف ته او موسیٰ او هارون ته د ظاهری ملک او سلطنت په اعتبار په انبیاؤ علیهم السلام کښې داؤد او سلیمان علیهما السلام یو شان دی، او د مصائبو او شدائدو د صبر کولو په لحاظ د ایوب او یوسف علیهما السلام په منځ کښې خاص مشابهت دی، نور د موسیٰ او هارون علیهما السلام د ورورئ او قرابت په نسبت د څه وینا ضرورت نشته په خپله حضرت موسیٰ علیه السلام له الله تعالیٰ څخه هارون علیه السلام د خپل وزیر په صفت طلب کړی ؤ، محقق مترجم رحمة الله علیه له دوی د هر یوه د دوو نومو په آخر کښې د «ته» توری راوړی، او په هغه سره ئی د دی لطائفو په لوری اشاره فرمائلی ده والله علم.

**تنبیه:** سلیمان علیه السلام د داؤد زوی، او داؤد علیه السلام (د یهودا) بن یعقوب علیه السلام له اولادی دی. ایوب علیه السلام د «اموض» زوی ؤ او د «عیص» بن اسحاق علیه السلام له اولادی دی. یوسف د یعقوب علیه السلام زوی ؤ موسیٰ او هارون سره ورونه او د اول عمران ځامن او د (لاوی بن یعقوب علیه السلام له اولادی وو.)

---

وَزَكَرِيَّا وَيَحْيَىٰ وَعِيسَىٰ وَإِلْيَاسَ ۖ كُلٌّ مِّنَ الصَّالِحِينَ ﴿٨٥﴾ وَإِسْمَاعِيلَ وَالْيَسَعَ
وَيُونُسَ وَلُوطًا ۚ وَكُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى الْعَالَمِينَ ﴿٨٦﴾ وَمِنْ آبَائِهِمْ وَذُرِّيَّاتِهِمْ

وَاِخْوَانِهِمْ ۚ وَاجْتَبَيْنٰهُمْ وَهَدَيْنٰهُمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٨٧﴾
ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهْدِيْ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ۗ وَلَوْ
اَشْرَكُوْا لَحَبِطَ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٨٨﴾

او (هدايت مو كړى ؤ) زكريا او يحيٰى ته او عيسٰى او الياس ته دوى ګرد (تول) دى له صالحانو (كاملانو) څخى او (هدايت مو كړى ؤ) اسماعيل او اليسع ته او يونس او لوط ته، او دا تولو ته فضيلت وركړى ؤ مونږ پر تمامو عالميانو او (فضيلت مو وركړى ؤ په نبوت او اسلام سره) څينو ته له پلرونو د دوى او له اولادى د دوى او له ورونو د دوى، او غوره كړى وو مونږ دا تول انبياء او لار ښوونه كړى وه مونږ دوى لره لارى سمى صافى ته دا (دين د انبياؤ) هدايت د الله دى چه لار ښوونه فرمائى (الله) په دى سره هغه چاته چه اراده وفرمائى له بندګانو خپلو نه او كه (فرضاً) شريک كړى وى دوى له (الله سره نور) نو خامخا به ضايع شوى وى له دوى نه هغه عمل چه وو دوى چى كاوه به ئى.

**تفسير:** يعني د خالص توحيد او د الله تعالىٰ د معرفت او طاعت سمه صافه لاره همغه ده چه پر هغى الله تعالىٰ خپل مقبول بندګان په خپل فضل او توفيق سره بيائى او په صله او جزا د هغه كښى د دوى درجى د دوى استعداد او لياقت سره سم لوړوى ﴿وَلَوْ اَشْرَكُوْا﴾ الآية - او كه «فرضاً» شريک كړى وى دوى له الله سره نور په عبادت كښى نو خامخا ضائع شوى به وى له دوى څخه هغه عمل چه وو دوى چه كاوه به ئى دا مونږ ته خبر راكړى شوى دى چه شرک (داسى لويه ګناه ده چه) د انسان تمام ښه عملونه حبط او باطلوى د نورو به څه حيثيت پاتى شى كه معاذالله په فرض محال سره داسى حركت د پيغمبرانو او مقربانو څخه صادر شى د دوى عمل به هم ضائع شى (اما صدور ئى له دوى څخه ممكن نه دى لكه چه مو په فرض محال سره دى خبرى ته اشاره وكړه).

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ۚ فَاِنْ يَّكْفُرْ
بِهَا هٰٓؤُلَآءِ فَقَدْ وَكَّلْنَا بِهَا قَوْمًا لَّيْسُوْا بِهَا بِكٰفِرِيْنَ ﴿٨٩﴾

دغه (تير پيغمبران) هغه كسان دى چه وركړى دى مونږ دوى ته كتابونه او

حکمت (علم د شریعت) او پیغمبری، پس که کافر (منکر) شي په دی (آیتونو د قرآن) دغه (کافران د مکي) پس په تحقیق مقرر کړی دی مونږ په (ایمان او عمل) د دی داسی یو قوم (تولګی) چه نه دی دوی په دی (قرآن) کافران.

**تفسیر:** یعنی که د مکی کافران یا نور منکران له دی شیانو (کتاب، شریعت او نبوت) څخه انکار وکړی نو زمونږ دین په هغو پوری موقوف او ترلی نه دی ځکه چه مونږ یو بل قوم چه مهاجرین او انصار رضی الله تعالیٰ عنهم او اتباع د دوی دی له پاره د منلو ـ ساتنی او ترویج د دی شیانو مقرر کړی دی چه دوی زمونږ د هیڅ خبری څخه مخ آړوونکی نه دی.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ ۖ فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ ۗ قُل لَّا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا ۖ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرَىٰ لِلْعَالَمِينَ ﴿٩٠﴾

دغه (انبیاء) هغه کسان دی چه هدایت کړی دی الله (دوی ته) نو په طریقه د دوی اقتداء وکړه (ای محمده!) ووایه چه زه نه غواړم له تاسی په دغه (تبلیغ د قرآن) څه اجر (مزدوری) نه دی دا (قرآن) مګر یوازی ذکر (پند، وعظ) دی له پاره د تولو عالمیانو.

**تفسیر:** یعنی ګرد (تول) انبیاء علیهم السلام په عقائدو او د دین په اصولو او په کلی مقاصدو کښی سره متحد دی. نو د ګردو (تولو) دستور یو دی، او هر یو نبی د هغو پر عمل مامور دی، تاسی هم مامور یئ چه پر همغی مستقیمی طریقی تګ وکړئ! ګواکی په دی آیت سره ئی تنبیه وکړه چه په اصولی ډول (طریقه) ستاسی لاره د سابقینو انبیاؤ له اصوله او لاری بیله نه ده پاتی شول فرعی اختلافات نو هغه د هری زمانی د مناسبت او استعداد په اعتبار پخوا له دی هم واقع کیدل که اوس هم واقع شي نو هیڅ مضائقه نه لری.
**فائده:** د اصولو علماؤ د دی آیت د عموم څخه دغه مسئله ایستلی ده چه که کریم نبی صلی الله علیه وسلم په کومه معامله کښی د سابقه ؤ شرائعو ذکر وفرمایی نو هغه د ده د امت په حق کښی هم سند دی په دی شرط سره چه شارع له هغه څخه په کلی یا جزئی ډول (طریقه) سره انکار نه وی فرمایلی. ﴿ قُل لَّا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا ﴾ الآية ـ ووایه چه زه نه غواړم له تاسی څخه په تبلیغ د قرآن څه اجر (مزدوری) نه دی دا قرآن مګر یوازی پند، وعظ دی له پاره د تولو عالمیانو) یعنی که تاسی نه منئ، نو زما هیڅ یوه نفع نه فوتیږی ځکه چه زه له تاسی څخه د هیڅ یو ډول (طریقه) مزدوری او اجرت غوښتونکی نه یم، زما اجر خو د الله تعالیٰ په دربار کښی ثابت دی.

هو! كه تاسي له نصيحت څخه انحراف وكړئ، نو خپلو ځانونو ته به نقصان ورسوئ! په ګرد (تول) جهان كښې يو نه يو خو به دا نصيحت ومني هر هغه څوك انكار چه وكړي هغه به خپل ځان ته نقصان ورسوي، او ښائي چه په خپلې دغې محرومۍ، بدبختۍ او بدحالۍ وژاړي.

وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖٓ اِذْ قَالُوْا مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ عَلٰى بَشَرٍ مِّنْ شَيْءٍ ؕ قُلْ مَنْ اَنْزَلَ الْكِتٰبَ الَّذِيْ جَآءَ بِهٖ مُوْسٰى نُوْرًا وَّ هُدًى لِّلنَّاسِ تَجْعَلُوْنَهٗ قَرَاطِيْسَ تُبْدُوْنَهَا وَتُخْفُوْنَ كَثِيْرًا ۚ وَعُلِّمْتُمْ مَّا لَمْ تَعْلَمُوْٓا اَنْتُمْ وَلَآ اٰبَآؤُكُمْ ؕ

او نه دي كړي تعظيم دغو (يهودانو) د الله په حق د تعظيم د ده سره كله چه وويل دوى چه نه دي نازل كړي الله پر هيڅ بشر (انسان) باندى هيڅ شي ووايه (اى محمده دوى ته) چا نازل كړى ؤ كتاب هغه چه راوړى ؤ هغه موسىٰ حال دا چه نور(رڼرا) او هدايت دى دپاره د خلقو چه ګرځوئ تاسي هغه (كتاب) پانه پانه ښكاروئ ئى (خلقو ته هغه چه ستاسي خوښي وى) او پټوئ تاسي ډيرى (ترى چه ستاسي نه وى خوښي لكه محمدى نعت). او ښوولي شوى دى تاسي ته هغه (احكام د تورات) چه پوه نه وئ (پرى) تاسي او نه پلرونه ستاسي

**تفسير:** ﴿ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ عَلٰى بَشَرٍ مِّنْ شَيْءٍ ﴾ الآية - يعني نه كتاب نه وحى او نه شرعى احكام بلكه هيڅ شى الله تعالىٰ نه دى رالېږلى په پخوانى ركوع كښې د نبوت د منصب او د ډيرو انبياؤ عليهم السلام يادونه نامه په نامه وه او دا چه (نبى كريم عليه افضل الصلوٰة والتسليم) هم د توحيد او معرفت د هم دى صراط المستقيم د لارى په تللو مامور دى چه پر هغى باندى پخوانيو انبياؤ عليهم السلام ته هم د تللو امر شوى ؤ، د رسولانو لېږل د خلق الله د هدايت د پاره د حق تعالىٰ قديمى عادت دى په دى آيتونو كښې د هغو جاهلانو او معاندانو ترديد كړى شوى دى چه له بدفهمى جهل او غباوت يا نبى كريم صلى الله عليه وسلم د عداوت په جوش او غصه كښې بې واكه شوى د حق تعالىٰ له دى صفت څخه هم چه ګوندى الله تعالىٰ كوم انسان په خپلى وحى او خاصى مكالمى سره مشرف ګرځوى بيخى انكار كوى ګواكى د«انزال الكتب» او «ارسال الرسل» له سلسلى څنى بيخى انكار او د دوى نفى كوى. ﴿ قُلْ مَنْ اَنْزَلَ الْكِتٰبَ الَّذِيْ جَآءَ بِهٖ مُوْسٰى ﴾ الآية - ووايه اى محمده! دوى ته چا نازل كړى ؤ هغه كتاب چه راوړى ؤ هغه

کتاب موسیٰ حال دا چه نور( رنړا) او هدایت دی دپاره د خلقو چه ګرځوئ تاسی هغه کتاب پانه پانه ښکاروئ ئی خلقو ته هغه چه ستاسی خوښی وی او پټوئ تری ډیری چه ستاسی نه وی خوښی لکه د محمد صلی الله علیه وسلم نعت او ښوولی شوی دی تاسی ته هغه احکام د تورات چه پری پوه نه وئ تاسی او نه پلرونه ستاسی یعنی که په رښتیا سره الله تعالیٰ پر هیڅ یو انسان هیڅ یو شی نه دی نازل کړی نو د «مقدس تورات» په شان یو عظیم الشان کتاب له کومه راغی؟ چه په الٰهی احکامو او مرضیاتو ئی بندګان خبرول او د رشد او هدایت عجیبه عجیبه رڼا (رنړا) ئی په خپل منځ کښی لرله، او د هغو شیانو علم ئی تاسی ته درعطا کاوه چه پری نه تاسی او نه ستاسی پلار نیکه بلکه تول انبیاؤ علیهم السلام حتیٰ تول بنیآدمان هم بی د الله تعالیٰ له اعلامه تش په خپل عقل او حواس نه پوهیدل، او چا هغه په موسیٰ علیه السلام نازل کړی دی؟ دا منل کیږی چه نن ورځ تاسی هغه کتاب پانی پانی او توک توک کړی دی، او خلقو ته مو سم له خپلی خوښی سره ښوولی دی او د هغه ډیر احکام او اخبار مو پټ کړی دی او د هغه اصلی رڼا (رنړا) همغسی چه وه اوس نه ده پاتی، بیا هم هغه برخه ئی چه پاتی ده همغه دا راښیی، کله چه د هغی عظیم الشانی مانی کندوالی هم داسی دی، نو خدای خبر چه په خپله زمانه کښی به ئی عروج څومره عظیم الشان ؤ؟ (نو کله چه دوی د دی سوال ځواب تاسی ته ای زما رسوله در نه کړی نو پاک الله فرمائی چه).

---

قُلِ اللَّهُ ثُمَّ ذَرْهُمْ فِي خَوْضِهِمْ يَلْعَبُونَ ﴿٩١﴾

---

ووایه (ای محمده !) چه الله (نازل کړی ؤ! بل ځواب نشته) بیا پریږده دوی چه په خرافاتو خپلو کښی لوبی کوی (او په باطلو خپلو کښی غوپی وهی مشغولیږی).

---

**تفسیر:** یعنی هسی نور او رڼا (رنړا) او هدایت به پرته (علاوه) د الله تعالیٰ له لوری د بل هیچا له خزانی څخه نشی راتلی که دا خلق داسی صافه او بدیهی خبره هم نه منی، نو تاسی خپل تبلیغ کوئ او تنبیه ورکړئ او خپله وظیفه پای (انجام) ته ورسوئ بیا نو دوی پریږدئ چه په هم دی خرافاتو او لهو لعبو کښی لګیا وی کله چه وخت راشی په خپله الله جل جلاله دوی ته هر شی ورښیی.

---

وَهَٰذَا كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ مُّصَدِّقُ الَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ وَلِتُنذِرَ أُمَّ الْقُرَىٰ وَمَنْ حَوْلَهَا ۚ وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ

بِالْاٰخِرَةِ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَهُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ﴿٩٢﴾

او دا قرآن كتاب دى چه نازل كړى دى مونږ هغه بركتناك (فائده ناك) تصديق كوونكى د هغه (كتابونو) دى چه وړاندى له ده دى او دپاره د دى چه وويروى ته اصل د تولو كليو (كلو) (يعنى اهل د مكى) او هغه چه چاپير دى له دى او هغه كسان چه ايمان ئى راوړى دى (يقين ئى كړى دى) په آخرت ايمان لرى دوى په دغه (قرآن يا په محمد) حال دا چه هم دوى په لمونځونو خپلو ساتنه كوى (د تولو حقوقو د دوام او رعايت سره يى).

**تفسير:** يعنى كه الله تعالىٰ كوم شى نه دى نازل كړى نو دغه مبارك كتاب له كوم ځاى څخه راغلى دى؟ چه نوم ئى قرآن او د ګردو (تولو) پخوانيو كتابونو د مضمونو تصديق كوونكى دى، كه دغه كتاب آسمانى كتاب نه دى نو راوښيئ چه دا د چا تصنيف دى؟ كله چه د هغه په مثل راوړلو جن او انس قادر نه دى، نو آيا دا د يوه امى تصنيف څرنګه كيدى شى؟.
﴿ وَلِتُنْذِرَ اُمَّ الْقُرٰى وَمَنْ حَوْلَهَا ﴾ او له پاره د دى چه وويروى ته اصل د تولو كليو (كلو) يعنى مكيان (مكى واله) او هغه چه چاپير له دى دى «ام القرىٰ» د كليو (كلو) اصل او بيخ ته وائى، مكه معظمه د ګردو (تولو) عربو دينى او دنيوى مرجع وه له جغرافيائى حيثيته هم د پخوانى دنيا د وسطى مركز په دول (طريقه) واقع ده، نوى دنيا (امريكا) ترى لاندى پرته ده د حديثو د رواياتو په مطابق له اوبو څخه ځمكه جوړه شوى ده نو ړومبى هم دغه ځاى څرګند شوى ؤ، نو بنا پر دغو وجوهاتو مكه معظمه په «ام القرىٰ» سره ياده كړه شوه، او له شاؤخوا څخه ئى مراد يا عرب دى، ولى چه په دنيا كښى ړومبنى مخاطبان هم دوى ؤ، او د دوى په وسيله د دنيا نورو خلقو ته خطاب وشو يا به ګرد (تول) جهان مراد وى، لكه چه فرمايلى ئى دى.
﴿ وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ ﴾ الآية - او هغه كسان چه ايمان ئى راوړى يقين ئى كړى دى په آخرت دوى ايمان لرى په دى (قرآن يا محمد صلى الله عليه وسلم) حال دا چه هم دوى په لمونځونو خپلو چه نښانه د ايمان او ستن د دين ده ساتنه كوى سره له دوام او رعايت د تولو حقوقو ئى هر څوک چه د آخرت پر ژوندون متيقن او د بعث بعد الموت فكر ورسره وى نو ده ته د هدايت او د نجات د لارى د ميندلو تلاش وى او هم دوى د الله تعالىٰ پيغام منى او د لمونځ، روژى او د نورو عباداتو ساتنه كوى.

وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ قَالَ اُوْحِىَ اِلَىَّ
وَلَمْ يُوْحَ اِلَيْهِ شَىْءٌ وَّمَنْ قَالَ سَاُنْزِلُ مِثْلَ مَاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ ؕ

او ځوک دی ډیر ظالم؟ (یعنی هیڅوک نشته!) له هغه چانه چه تړی پر الله دروغ یا وائی چه وحی کړی شوی ده ماته حال دا چه وحی نه وی کړی شوی ده ته د هیڅ شی او (بل څوک دی ډیر ظالم یعنی نشته له) هغه چه وایی ژر به (زه هم) نازل کړم (وبه لیکم له ځانه) په مثل د هغه کتاب چه نازل کړی دی الله (تاته ای محمده! چه قرآن دی)

**تفسیر:** پر الله جل جلاله له بهتان تړلو څخه بنائی دا مراد وی، چه د الله جل جلاله په لوری د داسی خبری نسبت وکړ شی، چه د ده د لوړ شان سره هیڅ نسبت ونه لری او وړ (قابل) او لایق ئی نه وی مثلاً یو مخلوق له هغه سره شریک وګرځوی یا ورته د زوی او ښځی تجویز وکړی، یا داسی ووائی ﴿ مَآ أَنزَلَ اللّٰهُ عَلٰى بَشَرٍ مِّن شَيْءٍ ﴾ یعنی الله تعالیٰ د بندګانو د هدایت هیڅ سامان نه دی مهیا کړی، نو هر څوک چه داسی ووایی سخت ظالم دی هم داسی هغه څوک چه د نبوت او د رسالت دعویٰ په دروغو سره وکړی، یا داسی یوه غته خبره وکړی چه د الله تعالیٰ د کلام په شان زه هم خبری راوړی شم لکه چه ځینو مشرکانو به ویل «ولو نشاء لقلنامثل هذا» دا ګردی (تولی) خبری انتهائی ظلم او بدسترګی ده چه د هغی د سزا حال لږ څه وروسته راځی.

وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِى غَمَرَٰتِ ٱلْمَوْتِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ بَاسِطُوٓا۟ أَيْدِيهِمْ أَخْرِجُوٓا۟ أَنفُسَكُمُ

او که ووینی ته (ای محمده!) ظالمان یعنی کافران په هغه وخت کښی چه ظالمان په (باطنی او روحانی) سختیو د مرګ کښی وی حال دا چه پرښتی (د عذاب) غځوونکی وی د لاسونو خپلو (د روح د قبض دپاره نو وائی دوی ته چه) راوباسئ تاسی ارواح خپل (چه ئی قبض کړو مونږ که ئی ایستی شئ یا ئی له عذابه وباسئ!)

**تفسیر:** یعنی د روح قبضولو او سزا ورکولو دپاره لاسونه غځوی او د زیات تشدید او د غیظ د اظهار دپاره وائی چه راوباسئ خپلی ارواحی (چه هغه مو لکه ډیرو ورځو راهیسی په ډول ډول (قسم قسم) پلمو (تدبیرونو) سره ساتلی وی).

ٱلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ ٱلْهُونِ بِمَا كُنتُمْ تَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ غَيْرَ ٱلْحَقِّ وَكُنتُمْ عَنْ ءَايَٰتِهِۦ تَسْتَكْبِرُونَ ﴿٩٣﴾

نن ورځ به جزا درکړه شي تاسي ته عذاب سپکوونکی (یعني چه له سخت تکلیف سره ذلت او رسوائی هم وی) په سبب د هغه چه وئ تاسي چه ویل به مو پر الله (وینا) ناحقه او وئ تاسي چه له آیتونو د ده څخه به مو تکبر کاوه (او نه به مو منل، نو وبه ګورئ یوه قبیحه منظره).

**تفسیر:** یعني د تکبر له لاری د الله تعالیٰ آیتونه او نبي دروغجنی کوئ (او وبه ویل شي کفارو ته کله چه بیا ژوندی شي په قیامت کښي داسي چه)

وَلَقَدْ جِئْتُمُونَا فُرَادَىٰ كَمَا خَلَقْنَاكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَتَرَكْتُم مَّا خَوَّلْنَاكُمْ وَرَاءَ ظُهُورِكُمْ ۖ وَمَا نَرَىٰ مَعَكُمْ شُفَعَاءَكُمُ الَّذِينَ زَعَمْتُمْ أَنَّهُمْ فِيكُمْ شُرَكَاءُ ۚ لَقَد تَّقَطَّعَ بَيْنَكُمْ وَضَلَّ عَنكُم مَّا كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ﴿٩٤﴾

او خامخا په تحقیق راغلی یئ تاسي مونږ ته یوازی یوازی (دپاره د حساب او جزا) لکه چه پیدا کړی مو وئ تاسي اول ځلی او پریښودل تاسي (په دنیا کښي) هغه (شیان) چه درکړی ؤ مونږ تاسي ته وروسته د شاوو خپلو او نه وینو مونږ له تاسي سره شفاعت کوونکي ستاسي هغه چه ګمان کاوه تاسي چه بیشکه دوی په (تربیه او استحقاق د عبادت د) ستاسي کښي شریکان دی (له الله سره) خامخا په تحقیق پری شو (هغه پیوند چه ؤ) په منځ ستاسي کښي او ورک شو له تاسي څخه هغه شي چه وئ تاسي چه ګڼل به مو (چه دا شفیعان دی).

**تفسیر:** ﴿وَلَقَدْ جِئْتُمُونَا فُرَادَىٰ﴾ او په تحقیق راغلی یئ تاسي مونږ ته یوازی یوازی لکه چه مو پیدا کړی وئ اول ځلی او پریښودل تاسي هغه شیان چه درکړی مو وو تاسي ته وروسته د شاوو خپلو یعني نه به ستاسي په سر خوالي (توپی) او نه به ستاسي په پښو پڼی وی ماته به تش تور لاس راځئ، او پر هغو سازونو او سامانونو مو چه فخر او ویاړ کاوه، هغه مو له ځانه سره نه دی راوړی او هلته مو پریښی دی. ﴿وَمَا نَرَىٰ مَعَكُمْ شُفَعَاءَكُمُ﴾ الآیة ـ او نه وینو مونږ له تاسي سره شفاعت کوونکي ستاسي هغه چه ګمان کاوه تاسي چه بیشکه دوی په تربیه او استحقاق د عبادت د ستاسي کښي شریکان دی له الله سره خامخا په تحقیق پری شو هغه پیوند چه ؤ په منځ ستاسي کښي او ورک او بی فائده شول له تاسي څخه هغه شیونه چه وئ تاسي چه ګڼل به مو چه

دا زمونږ شفیعان دی یعنی هغه شیان چه تاسی د مصیبت او اړتیا (احتیاج) په وخت کښې د خپلې مرستی (مدد) دپاره تاکلی (مقرر کړی) وو هغوی چیرې لاړل؟ چه نن مونږ دوی ستاسی د حمایت او سپارښت (سفارش) او مرستی (مدد) دپاره حاضر نه وینو او د نصرت او حمایت هغه ګردی (تولی) علاقی او اړیکی له منځه ورکی دی چه تاسی پری لاقی او باتی وهلی.

إِنَّ اللَّهَ فَالِقُ الْحَبِّ وَالنَّوَىٰ ۖ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَمُخْرِجُ الْمَيِّتِ مِنَ الْحَيِّ ۚ ذَٰلِكُمُ اللَّهُ ۖ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ﴿٩٥﴾

بیشکه الله چوونکی (څیروونکی) د دانې دی (په ایستلو د ډکی سره) او د زړی (په ایستلو د نیالګی (تیغی) سره) راباسی ژوندی له مړی (لکه شین ډکی له وچی دانی ولد له نطفی، مؤمن له کافر عالم له جاهل نه) او ایستونکی د مړی دی له ژوندی (لکه وچه دانه له شین ډکی، نطفه له حیوان. کافر له مؤمن، جاهل له عالم نه) دغه (ژوندی کوونکی او مړ کوونکی) الله دی نو کوم طرف ته ګرځولی شئ تاسی؟ (د الله له عبادت څخه)

**تفسیر:** یعنی زړی او دانه ئې په ځمکه کښې د ښبولو څخه وروسته چولی، او څیرلی او تک شین ډکی تری زرغونوی. له ځانداره د بیځانه، او له بیځانه د ځانداره ایستل داسی دی لکه چه انسان له نطفې او نطفه له انسان څخه پیدا کوی، دا د هم دی الله تعالیٰ کار دی، بیا تاسی چه هغه پرېږدئ نو چیرې ځئ؟ آیا بل داسی کوم لوی ذات موندلی شئ چه د داسی قدرتونو او کمالاتو څښتن (مالک) او دا ډول (طریقه) لوی کارونه په سر ورسولی شی؟

فَالِقُ الْإِصْبَاحِ وَجَعَلَ اللَّيْلَ سَكَنًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ حُسْبَانًا ۚ ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ ﴿٩٦﴾

چوونکی (د رڼا (رڼرا) د سبا دی (بیوونکی د تیارو د شپې او د جهل، راوستونکی د رڼا (رڼرا) د ورځې او د علم دی)، او ګرځولی ئې ده شپه آرامځی او (ګرځولی ئې دی) لمر او سپوږمی (نښې د) حساب (دپاره د اوقاتو) دغه (ذکر شوی شیان) اندازه کول دی د ښه غالب (قوی په انفاذ د احکامو) ښه عالم (خبردار په تدبیر د عالم).

**تفسیر:** یعني د شپې له تیارو څخه د صبح صادق هغه تک سپین تار چه راخرګندیږی د هغه رااېستونکی هم دا پاک الله دی د شپې او د ورځی، د لمر او د سپوږمی، د ستورو او نورو حکیمانه نظام، او د دوی د تګ او رفتار هغه شمیر او حساب چه ده تاکلی (خوښ کړی) او مقرر کړی دی، په هغه کښې د یوه ویښته په اندازه هم لاندی باندی او زیاتوالی او نقصان له سره نه پیښیږی.

وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ النُّجُومَ لِتَهْتَدُوا بِهَا فِي ظُلُمَاتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ قَدْ فَصَّلْنَا الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٩٧﴾

او دغه (الله) همغه (ذات) دی چه پیدا کړی ئی دی تاسی ته ستوری له پاره د دی چه لاره وموموئ د هغو (په وسیله) سره په تیارو د بر (وچی په بیابانو کښې) او (په تیارو د) بحر (دریاب) کښې په تحقیق ښکاره بیان کړی دی مونږ آیتونه (د قدرت او توحید خپل) دپاره (د هغه) قوم چه پوهیږی (او پری استدلال کولی شی).

**تفسیر:** یعني په دوی سره بلاواسطه لاره معلومه کړئ، یا بالواسطه لکه قطب ښوونکی او نور جغرافیی آلات.

وَهُوَ الَّذِي أَنْشَأَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ فَمُسْتَقَرٌّ وَمُسْتَوْدَعٌ قَدْ فَصَّلْنَا الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَفْقَهُونَ ﴿٩٨﴾

او دغه (الله) هغه ذات دی چه پیدا کړی ئی یئ تاسی (ګرد- تول) له نفس یوه څخه (چه آدم دی) نو (شته تاسی ته یو) ځای د قراری (په شاګانو د پلرونو یا په سر د ځمکی کښې) او یو ځای د امانت (د مور په نس یا په قبر کښې) په تحقیق ښکاره بیان کړی دی مونږ آیتونه (قدرت او توحید خپل) له پاره د هغه قوم چه ښه پوهیږی (او پری استدلال کولی شی)

**تفسیر:** «مستقر» د دریدلو هسی ځای چه په هغه کښې هستوګنه وشی او «مستودع» د سپارلو او د امانت کیښودلو ځای ته وائی. دا ئی لغوی معنی شوله د دی دواړو د مصداق په تعیین

ښکښي د مفسرينو اختلاف دی، خو زمونږ هغه مضمون ډير ښه خوښيږی چه حضرت شاه صاحب په «موضح القرآن» کښي ليکلی دی «يعني ړومبی سپارلی کيږی د مور ګيډی ته چه هلته ورو ورو دنيوی اثرات پکښي پيدا کړی، بيا ئی دنيا ته راولی، او دلته ورته هستوګنه او تقرر ورکوی، بيا ئی قبر او هديری ته سپاری او ورو ورو هلته د اخروی ژوندون اثرات پکښي پيدا کوی او بيا قرار ورته ښئي په جنت کښي يا ئی وراچوی په دوزخ کښي.»

وَهُوَ الَّذِيٓ أَنزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجْنَا بِهِۦ نَبَاتَ كُلِّ شَيْءٍ فَأَخْرَجْنَا مِنْهُ خَضِرًا
نُّخْرِجُ مِنْهُ حَبًّا مُّتَرَاكِبًا وَمِنَ النَّخْلِ مِن طَلْعِهَا قِنْوَانٌ دَانِيَةٌ
وَجَنَّٰتٍ مِّنْ أَعْنَابٍ وَالزَّيْتُونَ وَالرُّمَّانَ مُشْتَبِهًا وَغَيْرَ
مُتَشَٰبِهٍ ۗ انظُرُوٓا إِلَىٰ ثَمَرِهِۦٓ إِذَآ أَثْمَرَ وَيَنْعِهِۦٓ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكُمْ لَأٓيَٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٩٩﴾

او دغه (الله) هغه (ذات) دی چه نازلی (راښکته) کړی ئی دی له (طرفه د) آسمانه اوبه نو راايستلی دی مونږ په دی (اوبو) سره زرغونه د هر شی (زرغونيدونکی) نو راايستلی دی مونږ له هغه (زرغونه) شخه شين (کښت فصل) چه بيا راباسو مونږ له دی (شنه ډکی) څخه دانی يو په بل سوری (لکه وږی). او (راباسو) له (جنسه د) خرما څخه (داسی خرما چه راووځی) له غلافه (د وږی) د هغی څخه وږی نژدی (ځمکی ته يا يو د بل سره) او (راباسو) باغونه له انګورو او (راباسو) زيتون (ښون) او انار په دی حال چه يو له بل سره مشابه وی (په پانو کښي) او نه وی متشابه (بلکه بيل وی په خوند کښي) وګورئ تاسی طرف د ميوی د هری ونی ته کله چه ميوه ونيسی او پوخوالی د هغی ته بيشکه په دغو (تيرو تولو) کښي خامخا دلائل (د قدرت او وحدت) دی له پاره د هغه قوم چه ايمان لری (تصديق کوی).

**تفسير:** يعني د آسمان له جانبه الله تعالیٰ وريځی وورولی چه د نباتاتو د زرغونيدلو سبب دی (پس راايستلی دی مونږ په دغو اوبو سره زرغونه د هر شي. وروسته له دغه اجماله لږ څه داسی تفصيل فرمائی چه بيا راباسو له دی شنه ډکی څخه دانی چه يو په بل سوری وی لکه وږی او راباسو له

جنسه د خرماؤ څخه داسي خرما چه راووځی له غلافه د وږی د هغی څخه وږی نژدی ځمکی ته یا یو د بل سره) یعنی د ډیر بار او د وږو د لرلو په سبب د ځمکی په لوری راښکته او نژدی شوی وی (او راباسو باغونه له انګور او زیتون (ښون) او انار په دی حال کښی چه یو د بل سره مشابه وی په پاڼو کښی او نه وی متشابه بلکه بیل بیل وی په خوند کښی) یعنی د صورت، شکل، مقدار، رنګ، بوی، مزی په اعتبار ځینی میوی نورو ته ورته او متشابه دی، او ځینی نه دی (یعنی مخالفی وی سره په خوند کښی داسي چه یوه به خوږه وی، بله تروه بله میخوشه او یوه به دانه داره وی بله به بیدانه وی وګوریځ، میوی د هری ونی ته کله چه میوه ونیسی او پوخوالی د هغی ته) یعنی په ابتدا کښی کله چه میوه راوباسی نو څرنګه وړه، اومه، بیخونده او غیرقابل انتفاع وی بیا له پوخوالی او رسیدو څخه وروسته څرنګه لذیذه خوندوره خوشبویه، خوشرنګه او د کار شی ګرځی؟ دا ګرد (تول) د الله تعالیٰ د قدرت مظاهر او نښی دی.

﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكُمْ﴾ الآیة ـ بیشکه په دی تیرو تولو کښی خامخا دلائل د قدرت او وحدت دی دپاره د هغه قوم چه ایمان لری او تصدیق کوی. د الله تعالیٰ هغه صفات او افعال او د قدرت مظاهر چه په دی رکوع کښی بیان شوی دی د ده پر وجود، وحدانیت او کامل الصفات والی واضح استدلال دی، مګر که غور وکړ شی نو د وحی او د نبوت مسئله هم تر دیره ځایه پوری تری حل کیږی ځکه کله چه حق تعالیٰ پخپل فضل او رحمت سره زمونږ د دنیوی ژوندون، او د مادی حوائجو د انتظام او انصرام لپاره دومره ارضی او سماوی اسباب مهیا کړی دی، نو داسی ویل به څومره غلط او چټی (بیکاره) وی چه زمونږ د اخروی او روحانی ضروریاتو د پوره کولو هیڅ وسیله او سامان ئی نه دی راپیدا کړی، یقیناً هغه کریم رب چه زمونږ د جسمانی غذا د ودی او نشونما لپاره له آسمانه اوبه راښکته کړی دی، نو زمونږ د روحانی تغذیی لپاره ئی هم د نبوت له وریځو د وحی او الهام باران (وریا) نازل کړی دی. لکه چه پاک الله د بر او بحر په تیارو کښی د ستورو په وسیله ظاهری هدایت او لارښوونه کوی، نو څرنګه امکان لری چه د باطنی هدایت او لارښوونی لپاره یو ستوری هم د روحانیت په آسمان کښی نه وی روڼ کړی. پاک الله وروسته د شپی له تیاری بیا د صبح صادق رڼا (رڼرا) راولی، او مخلوقاتو ته ئی موقع ښښلی ده چه په خپلو دنیوی کارونو او چارو کښی د لمر او سپوږمی له رڼا (رڼرا) څخه په یوه معین حساب سره منتفع او مستفید شی، نو بیا څنګه ویلی کیدی شی چه د کفر، شرک، ظلم، عدوان، فسق فجور او نورو په تپه تیاره شپه کښی د هغه مطلق هادی له لوری هیڅ یوه د هدایت کومه سپوږمی نه ده پیدا کړی؟ او نه ئی د صبح صادق نور خپور (خور) کړی او نه د هغی شپی د خاتمه ورکولو دپاره ئی کوم لمر راخیژولی دی، او د الله تعالیٰ مخلوقات، تر ابدا لا بده پوری د جهل او ضلالت په تورو تیارو او امواجو کښی لالهاند او سرګردان پریښودل شی آیا کله چه کریم خدای د غنم دانه او د خرما زړی څیری کړی د غنمو وږی، او د خرما ونه تر باسی نو د انسان په زړه کښی د ربانی معرفت هغه د استعداد تخم چه فطرتاً شیندلی (نوستلی) شوی دی څرنګه ابته، بیکاره، (چټی)، خوشی او ضایع پریښودی شی. چه نه به خوځیږی، نه به غتیږی،

نه به پخیږی، او نه به تیاریږی، کله چه د جسمانی حیثیت له کبله (وجی) په دنیا کښی د حیات او ممات او د مرګ او ژوند سلسله قایمه ده، او پاک الله له مړی څخنی ژوندی او له ژوندی څخنی مړی پیدا کوی، نو په روحانی نظام کښی ولی د الله تعالیٰ له دی عادته انکار کاوه شی؟ بیشکه په روحانی ډول (طریقه) سره هم ډیر ځلی له یوه ژوندی قوم څخه مړ قوم او له مړه قوم څخنی ژوندی افراد پیدا کوی. همغسی چه الله تعالیٰ زمونږ د دنیوی ژوندون د «مستقر» او «مستودع» حکیمانه انتظام او بندوبست فرمایلی دی، د اخروی حیات د مستقر او مستودع سامان له هغه څخه ډیر زیات تیار او مهیا کړی دی. (فلله الحمدوالمنة وبه الثقة والعصمة)۔ له هم دی ځایه دا هم فهمیږی، هم داسی چه الله تعالیٰ په داسی افعالو او صفاتو سره پیژندلی کیږی ـ یعنی هغه کار چه دی ئی پخپل کامل قدرت سره کوی هیڅ یو مخلوق طاقت نه لری چه د هغه په شان همغسی کار وکړی عیناً په هم دی شان د ده کلام مونږ په همغه معیار سره برابر منلی، سنجولی (کتلی) ګڼلی شو۔ چه د پاک الله کلام همغه کیدی شی چه د هغه مثل او نظیر که ګرد (ټول) مخلوقات ټول سره یو ځای شی هم نشی جوړولی، بیا د «سانزل مثل ما انزل الله» ادعا تر کوم ځایه پوری صحیح کیدی شی، ګواکی په دی رکوع کښی د الله تعالیٰ د صفات او افعالو په بیانولو سره د هغو ګردو (ټولو) مسائلو پر حقیقت تنبیه ورکړی شوی ده چه د هغو تغلیط په تیره رکوع کښی کړی شوی وو.

---

وَجَعَلُوا لِلّٰهِ شُرَكَآءَ الْجِنَّ وَخَلَقَهُمْ
وَخَرَقُوا لَهٗ بَنِيْنَ وَبَنٰتٍ بِغَيْرِ عِلْمٍ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿١٠٠﴾ ع

---

او مقرر کړی دی (کفارو) الله ته شریکان جنیان (جنات) حال دا چه پیدا کړی دی(الله) دغه (جن او شیاطین هم) او تړی (جوړوی ځینی کفار) دپاره د الله زامن او لونی بی له علمه (له خپل جهالت نه) پاکی ده الله لره (له ګردو (ټولو) عیبونو) او ډیر پورته دی (شان د ده) له هغو (بدو خبرو) چه بیانوی (ئی ورته) دوی

---

**تفسیر:** له «جن» څخه دلته مراد «شیاطین» دی څرنګه چه د کفر او شرک ارتکاب د شیطان په اغواء سره کیږی، نو ځکه د ده په اغواء او اضلال د غیر الله عبادت کول ګواکی د هغه عبادت وشو، ابراهیم علیه السلام د بت پرستی د تردید په ضمن کښی فرمایلی وو ﴿ يٰٓاَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّيْطٰنَ ﴾ (سورة مریم ۳ رکوع) په یو ځای کښی ارشاد شته چه ﴿ اَلَمْ اَعْهَدْ اِلَيْكُمْ يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ اَنْ لَّا تَعْبُدُوا الشَّيْطٰنَ ﴾ ملائکی به په قیامت کښی فرمائی ﴿ قَالُوْا سُبْحٰنَكَ اَنْتَ وَلِيُّنَا مِنْ دُوْنِهِمْ بَلْ كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ الْجِنَّ اَكْثَرُهُمْ بِهِمْ مُّؤْمِنُوْنَ ﴾ (۲۲ جزء د سباء سورت،

(٥) رکوع (٤١) آیت یا به له «جن» څخه د جنیانو قوم مراد شي چه د دوی له ځینو مشرانو ځنی به د جاهلیت په زمانه کښی استعانت او پناه غوښتل کیده ﴿ وَأَنَّهُ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ الْإِنسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٍ مِّنَ الْجِنِّ فَزَادُوهُمْ رَهَقًا ﴾ (۲۹ جزء د الجن (٦) آیت (١) رکوع). په هر حال هغوی پخپله زمونږ په شان د الله تعالیٰ عاجز مخلوق دی نو سره له مخلوقیته به دوی څه رنگه د خالق تعالیٰ شریکان شي. ﴿ سُبْحَانَهُ ﴾ الآیة ـ یعنی الله جل جلاله پاک دی له شرکت څخه او د الله تعالیٰ شان ډیر پورته او لوړ دی او له ترکیب او تحلیل څخه بیخی پاک او منزه دی. نو د پلار او زوی تصور د ده په نسبت څرنگه کیدی شي؟.

بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُ وَلَدٌ وَلَمْ تَكُن لَّهُ صَاحِبَةٌ ۖ وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ ۖ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿١٠١﴾

(الله) بی له نمونی پیدا کوونکی د آسمانونو او د ځمکی دی څرنگه به وی ده ته زوی، لوږ حال دا چه نشته ده ته هیڅ ښځه او پیدا کړی دی (الله) هر شی او هم دی پر هر شی ښه عالم (ښه دانا) دی.

**تفسیر:** هغه چه یواځی آسمان او ځمکی ئی بی له کومی نمونی او بی د آلاتو او اسبابو او نورو شیانو په وسیله په داسی بدیع او بی مثله طرز پیدا کړی دی، نو نن هغه ذات ته د دی شریکانو کومک، (امداد) او د زوی او د لمسی د مرستی (مدد) لتولو څه ضرورت پاتی دی. تعجب دی لکه چه تاسی حقیقتاً د الله له پاره اولاد تاکئ (خوښوی) نو د ده د اولاد له پاره به مور څرنگه تجویزوئ؟ او د دی مور تعلق به له الله تعالیٰ سره په څه ډول (طریقه) سره قبلوئ؟ نصرانیان حضرت مسیح ته د الله تعالیٰ زوی وائی ـ لیکن داسی جسارت هغوی هم نشی کولی چه صدیقه بی‌بی مریمه (العیاذبالله) د «الله تعالیٰ» ښځه وبولی، او د میره (خاوند) او ښځی په تعلقاتو قائلان شي. کله چه داسی نه ده نو د (بی‌بی مریمی) له گیدی ځنی پیدا شوی هلک څرنگه د الله تعالیٰ زوی کیدی شي؟ په دنیا کښی نور کوچنیان (ماشومان) هم پاک الله د دوی د میندو له گیدو ځنی پیدا کوی او دوی معاذالله د الله تعالیٰ نسلی اولاد نه گڼل کیږی. او دا فرق چه یو هلک یوازی له (جبرئیلی) نفخی څخه بیا د عادی اسبابو له واسطی څخه پیدا کړ شي، او نور د عامو اسبابو په سلسله پیدا کړل شي، دا بوت او بنوت (پلارتوب او زویتوب) پر مسئله هیڅ یو اثر نشی اچولی، دغه تخلیق په اسبابو یا مسبباتو سره وی، یا د خارقه عاداتو په وسیله د دغو گردو (تولو) خالق همغه پاک الله دی او همغه پوهیږی چه د کوم شي پیدا کول په څه ډول (طریقه) او په څه وخت له مصلحت او حکمت سره سم دی.

ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ فَاعْبُدُوْهُ ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ وَّكِيْلٌ ﴿١٠٢﴾

هم دغه (ذات موصوف په دغو صفاتو سره) الله دى رب ستاسى، نشته هيڅ معبود (لايق د عبادت) مگر هم دى، پيدا كوونكى دى د هر شي نو عبادت كوئ د دغه (الله يوازى) او هم دى پر هر شي وكيل (ساتونكى كار جوړوونكى) دى.

**تفسير:** ښائى د الله جل جلاله عبادت د دى له امله (وجى) وكړى شي چه دى د پورتنيو ذكر شوو صفاتو له سببه په ذاتي طور سره د معبوديت استحقاق لرى او له دى وجهى هم چه د گردو (ټولو) مخلوقاتو كار جوړول هم د ده په قدرت او اختيار كښى دى.

لَا تُدْرِكُهُ الْاَبْصَارُ ۫ وَهُوَ يُدْرِكُ الْاَبْصَارَ ۚ وَهُوَ اللَّطِيْفُ الْخَبِيْرُ ﴿١٠٣﴾

نشى موندلى (او احاطه نشى كولى) پر الله ستركى او الله مومى ستركى (وينى ئى) او هم دى نهايت لطيف ښه خبردار دى.

**تفسير:** حضرت شاه صاحب د دى مطلب داسى اخيستى دى چه «په ستركو كښى دا قوت نشته چه الله تعالىٰ وگورى ـ هو! كه دى د لطف او كرم له لارى د خپل ځان د ښكارولو اراده وفرمائى نو ستركو ته همغسى قوت هم ورعطا كوى» مثلاً په آخرت كښى به مؤمنانو ته حسبالمراتب د الله جل جلاله رؤيت ور په برخه كيږى، لكه چه د كتاب له نصوص او سنتو ځنى ثابته ده. يا له ځينو رواياتو سره سم كريم نبى صلى الله عليه وسلم ته په «ليلة الاسراء» كښى رؤيت ور په برخه شوى دى على اختلاف الاقوال، په باقى مواضعو كښى څرنگه چه كوم نص نشته، نو ځكه د عامى قاعدى سره سم د رؤيت نفى يعنى د نه ليدلو اعتقاد ضرورى دى. د سلفو مفسرينو څخه ځينو د ادراک معنى په احاطى سره كړى ده يعنى ستركى له سره هغه نشى احاطه كولى او په آخرت كښى به رؤيت وى او احاطه به نه وى، هو! د ده شان هم دا دى چه په گردو (ټولو) ابصارو او مبصراتو ئى احاطه كړى ده. په دى تقدير سره د «لطيف» تعلق به له «لا تدركه» سره او د «خبير» ارتباط به له «وهو يدرک» سره وى.

قَدْ جَآءَكُمْ بَصَآئِرُ مِنْ رَّبِّكُمْ ۚ فَمَنْ أَبْصَرَ فَلِنَفْسِهٖ ۚ
وَمَنْ عَمِيَ فَعَلَيْهَا ۚ وَمَآ أَنَا عَلَيْكُمْ بِحَفِيظٍ ﴿١٠٤﴾

(ووايه اى محمده ! دوى ته) په تحقيق راغلى دى تاسى ته واضح دلائل له طرفه د رب ستاسى نو هر څوک چه ووينى (دغه واضح دلائل او ايمان پرى راوړى) نو نفع ئى د خپل ځان ده او هر څوک چه ړوند شو(له دغو دلائلو او ايمان پرى رانه وړى) نو ضرر ئى) په ده (بار) دى او نه يم زه په تاسى ساتونكى (چه ستاسى اعمال به ساتم، او بيا به تاسى ته پرى جزا دركوم بلكه زه رسول الله يم او پر ما تش تبليغ دى).

**تفسير:** اگر كه مونږ پاک الله نشو ليدلى، مگر د ده د بصيرت زياتوونكى علامى او دلائل زمونږ په مخ كښى شته هر څوک چه خپلى سترگى پرانيځى نو ضرور الله تعالىٰ مومى او هر څوک چه له خپل ځانه ړوند جوړ كړى نو دى به خپل ځان ته تاوان ورسوى آيا دا زما په غاړه ده چه څوک خامخا ليدلو ته مجبور كړم؟.

وَكَذٰلِكَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ وَلِيَقُوْلُوْا دَرَسْتَ وَلِنُبَيِّنَهٗ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿١٠٥﴾

او هم داسى راز راز (قسم قسم) بيانوو (پوهوو) مونږ آيتونه (د قدرت خپل دپاره د عبرت) او له پاره د دى چه ووائى دغه (كفار چه) لوستلى زده كړى دى تا (له بل چا څخه) او له پاره د دى چه واضح بيان كړو دا قرآن له پاره د هغه قوم چه پوهيږى.

**تفسير:** يعنى خپل آيتونه له مختلفو خواوو، او په عجيبو او غريبو دولونو (طريقو) سره ځكه بيانوو چه تاسى ئى گردو (تولو) خلقو ته ورسوئ او په دوى كښى به د استعدادونو او احوالو له اختلاف څخه دوه ډلى جوړى شى، ضد كوونكى او ناپوهان خو به داسى وائى چه داسى علوم او معارف او مؤثر مضامين د يو امى او نالوستى سړى له خولى څرنگه وځى، هرومرو (خامخا ) به دى په مختلفو وختونو كښى دا خبرى له بل چا څخه زده كوى، او بيا ئى مونږ ته راآوروى. مگر پوهانو او انصاف لرونكو او حق خوښوونكو خلقو ته حق ضرور واضح كيږى او داسى شيطانى شكوک او شبهات زائليږى. (يا دا چه دا تير آيتونه بيا بيا بيانوو په مقتضاء د بالغه

حکمت خپل سره پس له دی هم کله له خوفه کله له رجا کله له وعده کله له وعیده چه آوریدونکی پری عبرت واخلی، او چه دا قسم وینا د بشر له مقدوره خارج ده، او له پاره د دی چه بیان کړو دا قرآن دپاره د هغه قوم چه مؤمنان دی په دی چه دا کلام الله دی.)

اِتَّبِعْ مَآ اُوْحِيَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ وَاَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿١٠٦﴾

پیروی کوه (ای محمده!) د هغه حکم (قرآن) چه وحی کړی شوی ده تاته له رب ستا نشته هیڅ لایق د عبادت مګر هم دی، او مخ ګرځوه له مشرکانو (او په خبرو ئی پروا مه کوه).

**تفسیر:** یعنی تاسی پر واحد الله جل جلاله اعتماد ولرئ! او د ده پر حکم تګ وکړئ! او د مشرکانو له جهل او عناده سترګی واړوئ! او داسی اندیښنه مه کوئ! چه ولی دوی د هسی روښانو او واضحو دلائلو او بیاناتو د آوریدلو سره بیا هم په سمه لاره نه راځی؟.

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَآ اَشْرَكُوْا ؕ

او که اراده فرمایلی وی الله (د عدم شرک د دوی) نو شرک به نه وی کړی دوی

**تفسیر:** یعنی د حق تعالیٰ تکوینی حکمت د دی خبری مقتضیٰ نه دی چه دی ګرد (تول) عالم په جبر سره مؤمنان کړی. بیشکه که اراده وفرمائی نو پر ګرد (تول) جهان کښی به یو مشرک هم پاتی نشی ـ لیکن له شروع څخه د انسانی فطرت نظام ئی داسی ایښی دی چه که انسان کوښښ وکړی نو یقیناً هدایت قبلولی شی خو بیا هم په منلو باندی ئی بیخی مجبور او مضطر نه دی. د دی مسئلی تقریر پخوا تیر شوی دی.

وَمَا جَعَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ۚ وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ بِوَكِيْلٍ ﴿١٠٧﴾

او نه ئی ګرځولی مونږ ته پر دوی ساتونکی (څارونکی د اعمالو د دوی)، او نه ئی ته پر دوی وکیل (کتونکی چه په ایمان ئی مجبور کړی).

**تفسیر:** یعنی ستاسی فرض تبلیغ او د الٰهی د احکامو اتباع ده. د دوی د اعمالو ذمه وار او ځواب ویونکی خو تاسی نه یئ!.

وَلَا تَسُبُّوا الَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ فَيَسُبُّوا اللَّهَ عَدْوًا بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ

او کنځل مه کوئ (ای مؤمنانو) هغو (معبودانو) ته چه عبادت کوی دغه (کفار د هغو) بی له الله نو کنځل به وکړی دوی (هم) الله ته په ناحقه سره بی له پوهی (له خپل جهالته)

**تفسیر:** یعنی تاسی خپل تبلیغ او نصیحت فرمایئ! او خپل فرض په ښه ډول (طریقه) سره ادا کړئ! وروسته له دی نه که بیا هم دوی په خپل کفر او شرک باندی دوام وکړی نو د هغه مسئولیت د دوی په غاړه دی. او ذمه واری ئی پر تاسی نشته. هو! دا خبره ضروری ده چه تاسی پخپله بی‌ضرورته د دوی د زیات کفر او تعنت سبب ونه ګرځئ. مثلاً فرض ئی کړئی که د دوی د مذهب تردید، یا د بحث او مناظری په سلسله کښی تاسی په غصه شئ او د دوی باطلو معبودانو او مقتدایانو ته سب او کنځل وکړئ چه د دی نتیجه به داسی شی، چه هغوی به هم په ځواب کښی ستاسی د برحق معبود او محترمو لویانو په نسبت بی ادبی کوی او له جهالته به دوی ته زیاړی او کنځلی کوی، په دی صورت کښی به د خپل واجب‌التعظیم معبود او د قابل الاحترامو لویانو د اهانت سبب تاسی پخپله وګرځئ، نو ځکه له دی نه تل احتراز وکړئ! د کوم مذهب د اصولو او فروعو اغلاط په معقولی طریقی سره ښکارول، یا د هغه پر کمزوری او رکاکت په تحقیقی او الزامی طریقو سره تنبیه کول بیل شی دی. لیکن د کوم قوم د لویانو او معبودانو په نسبت د تحقیر او توهین په ډول (طریقه) زړه دردوونکی خبری ښی نه دی او پاک قرآن هغه له سره جائز نه بولی.

كَذَٰلِكَ زَيَّنَّا لِكُلِّ أُمَّةٍ عَمَلَهُمْ ثُمَّ
إِلَىٰ رَبِّهِم مَّرْجِعُهُمْ فَيُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٠٨﴾

په شان د دغه (ښایست د عبادت د بتانو دوی ته) ښائسته کړی مونږ هر امت

(فرقي) ته عمل د دوی (نیک وی که بد) بیا رب د دوی ته بیا ورتګ د دوی دی(په آخرت کښې) پس خبر به کړی (الله) دوی په هغه شي چه وو دوی چه کاوه به (ئي په دنیا کښې نو په جزا به ئي رسوی).

**تفسیر:** یعني څرنګه چه دنیا دارالامتحان دی، او د هغې نظام مونږ داسې ایښې دی او داسې اسباب مو سره راټول کړی دی چه دلته هر قوم پخپلو اعمالو، دودونو او دستورونو نازیږی او فخر پرې کوی. او د انسان دماغ داسې نه دی جوړ شوی چه فقط د صداقت پر قبلولو او منلو باندی مجبور شي او د غلطی په لوری د تللو هیڅ ځای ورته پاتې نه وی، هو! کله چه د پاک الله په دربار کښې حاضر شي او له ګردو (تولو) حقائقو سره مخامخ شی، نو هلته به وپوهیږی او د دی خبری پته به ورته ولګیږی، چه هغه کارونه چه په دنیا کښې ئي کړی دی څرنګه وو؟

وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَئِن جَاءَتْهُمْ آيَةٌ لَّيُؤْمِنُنَّ بِهَا قُلْ إِنَّمَا الْآيَاتُ عِندَ اللَّهِ وَمَا يُشْعِرُكُمْ أَنَّهَا إِذَا جَاءَتْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٠٩﴾

او قسمونه خوری دغه (کفار) په الله باندی په ډیرو سختو قسمونو خپلو سره چه خامخا که راغله دوی ته هغه معجزه (چه ئي غواړی دوی) نو هرومرو (خامخا) به ایمان راوړی پرې ووایه (ای محمده! دوی ته) بیشکه خبره دا ده چه معجزی په نزد د الله دی (او زه نه یم پرې قادر) او څه شي خبر کړی یئ تاسی (ای مؤمنانو بلکه بی خبره یئ چه) بیشکه دا (مطلوبی) معجزی کله چه راشي (دوی ته) (بیا هم) نه راوړی ایمان دوی.

**تفسیر:** ځینو مسلمانانو ته داسې خیال پیدا شو، چه دیر ښه! که د دوی دا غوښتنې پوره شي او دغه حجت هم تمام شي، نو څه کیږی؟ لهذا د دی په نسبت فرمائي چه تاسی نه یئ خبر چه دغه سرکښان او ضد کوونکی کسان د دی فرمائشي علامو له لیدلو نه وروسته بیا هم ایمان راوړونکی نه دی ـ او بیا به سم له سنت‌الله سره دوی د دی خبری مستحق وګرځی چه فوراً پوپنا شی لکه چه د دی سورت په شروع کښې مو په تفصیل سره هغه ولیکل (فرمائشي معجزی لکه دا چه د صفا غر زر وګرځوی یا نور).

وَنُقَلِّبُ أَفْـِٔدَتَهُمْ وَأَبْصَارَهُمْ كَمَا لَمْ يُؤْمِنُوا
بِهِۦٓ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَّنَذَرُهُمْ فِى طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿١١٠﴾

او آړوو مونږ زړونه د دوی (له قبلولو د حق نه) او سترګی د دوی (له لیدلو د حق نه نو ایمان نه راوړی) لکه چه ایمان ئی نه دی راوړی (په نورو معجزاتو) اول واری او پریږدو مونږ دوی په ګمراهی د دوی کښی حال دا چه دوی متحیران او متردادن دی.

**تفسیر:** یعنی کله چه په کفر او سرکشی باندی همیشه والی او دوام وشی نو نتیجه به ئی داسی کیږی چه مونږ د دوی زړونه او سترګی کږه وو، بیا د حق د پوهیدلو او لیدلو توفیق نه مومی، «په موضح القرآن» کښی راغلی دی چه الله جل جلاله هغو کسانو ته چه هدایت ورکوی، په همغه اول ځلی چه حق آوری، هغه په انصاف سره قبلوی او هغه چه له اوله ضد او هنده کوی که علامی ئی هم وګوری، نو څه حیلی او پلمی (تدبیرونه) ورته جوړوی.

وَلَوْ أَنَّنَا نَزَّلْنَآ إِلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةَ وَكَلَّمَهُمُ الْمَوْتٰى وَ
حَشَرْنَا عَلَيْهِمْ كُلَّ شَيْءٍ قُبُلًا مَّا كَانُوا لِيُؤْمِنُوٓا إِلَّآ أَن يَشَآءَ
اللّٰهُ وَلٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ يَجْهَلُونَ ﴿١١١﴾

او كه بيشكه مونږ راليږلي مو وى دغو (كفارو) ته (په غوښتنه د دوى) پرښتي او خبرى كړى وى له دوى سره مړيو (لكه چه دوى وائى) او جمع كړى وى مونږ دوى ته هر شي (چه په دنيا كښې دى) مخامخ نو نه به وو دغه (كفار) چه ايمان راوړى (په هيڅ وخت كښې) مگر (په وقت د) ارادى فرمايلو د الله (د ايمان د دوى) وليكن زيات د دوى جاهلان دى (نه پوهيږى).

**تفسير:** يعنى كه د دوى له دى فرمايش سره موافق بلكه زيات له دى بالفرض له آسمانه پرښتى راشى، او د پيغمبر تصديق وكړى، او مړى له هديرو (مقبرو) څخه ژوندى كړل شى، هغه گرد (تول) امتونه چه مره شوى دى بيا ژوندى كړل شى، او له دوى سره مخامخ ودرول شى چه له دوى سره خبرى وكړى، بيا هم دوى د بد استعداد او تعنت او عناد له سببه د حق منونكى نه دى. بيشكه كه الله تعالىٰ اراده فرمائلى وى نو په زور به ئى ير دوى قبلاوه مگر داسى كار د ده له تكوينى نظام څخه خلاف دى، چه په هغه باندى د دوى زياتره خلق د خپل جهل او ناپوهى له سببه نه پوهيږى. د دى موضوع تشريح پخوا تيره شوى ده د ﴿ وَلٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ يَجْهَلُونَ ﴾ ترجمه ځينو مفسرينو داسى كړى ده: «ليكن زيات مسلمانان نه پوهيږى په دى چه دغه كفار ايمان نه راوړى اگر كه داسى معجزى هم ووينى» او ځينى مفسرين داسى ترجمه كوى، وليكن اكثر د دى كفارو نه پوهيږى په نه راوړلو د ايمان خپل باندى اگر كه راوړلى شى دوى ته داسى معجزى هم).

وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيٰطِينَ الْإِنسِ وَالْجِنِّ يُوحِي بَعْضُهُمْ إِلٰى بَعْضٍ
زُخْرُفَ الْقَوْلِ غُرُورًا ۚ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوهُ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ ﴿١١٢﴾

او هم داسى گرځولى (پيدا كړى) ؤ مونږ هر نبى ته دښمن شيطانان د انس

(انسانانو) او د جن (پیریانو) ورښوولی به «او وسوسه به ئی آچوله» ځینو د دوی ځینو (نورو) ته ښائسته کړی شوی خبری دپاره د غلولو او که اراده فرمائلی وی رب ستا نو نه به وو کړی دوی دا (کارونه چه د زخرف وحی او غرور دی) پس پریږده دوی او هغه چه دوی له ځانه دروغ جوړوی (چه کفر دی).

**تفسیر:** څرنګه چه د الله تعالیٰ بالغه حکمت د تکوین له حیثه د دی خبری مقتضی دی چه د خیر او شر له قوتو څخه هیڅ یو قوت تر هغو بیخی ورک او بی اثره نشی چه د دی عالم د نظام بقا منظور وی، نو ځکه د نیکی او بدی او د هدایت او ضلالت حریفانه جنګ تل تر تله قائم پاتی دی، هم داسی چه دغه مشرکان او معاندان په داسی چتی (بیکاره) فرمائشونو تاسی ربړوی (تکلیف درکوی) ، او په راز راز (قسم قسم) حیلو او پلمو (بهانو) د حق له لاری د خلقو ښویول غواړی هم داسی د نورو رسولانو په مقابل کښی هم شیطانی قوتونو کار کاوه، تر څو هغه رسولان هم پری نږدی چه پخپلو پاکو مقاصدو (د خلق الله په هدایت) کښی بریالی (کامیاب) شی د دی فاسد غرض له پاره شیاطین الجن او شیاطین الانس یو له بل سره مرستی (مدد) او تعاون کوی او یو بل ته د خطا ایستلو او ملمع جوړولو او تملق (غوړه مالی) خبری ورښیی او د دوی دغه عارضی آزادی د هغه عام حکمت او تکوینی نظام په اساس ده، چه د عالم په تخلیق کښی الله تعالیٰ د هغه رعایت فرمایلی دی، نو ځکه تاسی د اعداء الله د داسی فتنی آچولو او پلمی، حیلی، (بهانی) اغواء او یاغیتوب له کبله (وجی) زیات په فکر او غم کښی مه لویږئ! له دوی څخه او د دوی د کذب او افتراء څخه قطع نظر وفرمائی او د دوی معاملی پاک الله ته وسپارئ!.

وَلِتَصْغَىٰٓ إِلَيْهِ أَفْـِٔدَةُ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْـَٔاخِرَةِ وَلِيَرْضَوْهُ وَلِيَقْتَرِفُوا۟ مَا هُم مُّقْتَرِفُونَ ﴿١١٣﴾

او له پاره د دی چه میل وکړی دی دروغو ته زړونه د هغو کسانو چه ایمان نه راوړی (یقین نه کوی) په آخرت (قیامت باندی) او له پاره د دی چه خوښ (هم) کړی دا دروغ او دپاره د دی چه وکړی دوی (له ګناهونو) هغه چه دوی ئی کسب کوونکی دی (چه پری کره شی)

**تفسیر:** یعنی شیاطین یو بل ته د تیرایستلو ملمع او غوړی خبری د دی له امله (وجی) ورښیی چه د هغو د آوریدلو په سبب هغه خلق (وګړی) چه د دنیا په ژوندون کښی ډوب دی او په

اخروی ژوندون یقین نه لری، د دی ناپوهانو د تیرایستلو او خطا ایستلو خبرو ته ورمائل شی، او هغه د زړه له کومی (منځ) ومنی، او بیا له سره د خرابو کارونو او فسق او فجور له دلدل او جبی د باندی ونه وځی.
کله چه له محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دا خبره وغوښتل شوه چه د خپل ځان او د کفارو په منځ کښی دی یو حکم کوونکی منصف مقرر کړی نو دا لاندی آیت نازل شو او الله جل جلاله وفرمایل چه ووایه دوی ته ای محمده!)

أَفَغَيْرَ اللَّهِ أَبْتَغِي حَكَمًا وَهُوَ الَّذِي أَنزَلَ إِلَيْكُمُ الْكِتَابَ مُفَصَّلًا ۚ وَالَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْلَمُونَ أَنَّهُ مُنَزَّلٌ مِّن رَّبِّكَ بِالْحَقِّ ۖ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِينَ ﴿١١٤﴾ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلًا ۚ لَّا مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِهِ ۚ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿١١٥﴾

آیا پس بی له الله وغواړم زه حکم کوونکی عادل (چه زما او ستاسی په منځ کښی فیصله وکړی) حال دا چه دغه (الله) هغه (ذات دی) چه نازل کړی (رالیږلی) ئی دی تاسی ته کتاب (قرآن) حال دا چه واضح کړی شوی دی (پکښی حق او باطل) او هغه کسان چه ورکړی دی مونږ دوی ته کتاب پوهیږی دوی چه بیشکه دا (قرآن) نازل کړی (رالیږلی) شوی دی له (لوری د) رب ستا په حقه سره نو مه کیږه (ای سامعه!) هیڅکله له شک کوونکو (په قرآن کښی) او تمامه شوی ده خبره د رب ستا له جهته د صدق (رښتینوالی) او له جهته د عدل (انصاف یعنی کمال ته رسیدلی دی صدق د اخبارونو او عدل د احکامو د ده)، نشته هیڅ بدلوونکی د خبرو د الله، او هم دی دی ښه اوریدونکی (د تولو اقوالو) ښه خبردار (په تولو احوالو).

**تفسیر:** یعنی د «شیاطین الانس والجن» تلبیس او تلمیع ته یوازی جاهلان او بدعقیدګان انسانان غوږ ږدی، یوازی رسول صلی الله علیه وسلم او د ده متابعت کوونکو چه په هره مسئله او معامله کښی فقط یو خدای جل جلاله خپل منصف او حکم منلی دی، آیا له دوی څخنی د دی خبری هیله (امید) کیدی شی چه دوی به الله تعالیٰ پریږدی، او د بل چا تر اثر لاندی به راشی؟ یا تملق او خوشامندی اغیزه (اثر) پری کولی شی؟ یا نورو بی ځایه او چتی (فضول) خبرو ته به غوږونه ږدی؟ یا معاذ الله) د غیر الله د فیصلی په مقابل کښی به غاړه ږدی؟ حال

دا چه د پاک الله له لوري داسې معجز او کامل کتاب دوی ته نازل شوی دی چه د ګردو (ټولو) اصولي شیانو ضروري توضیح او تفصیل پکښې موجود دی. چه د هغه په نسبت د کتابیانو عالمان د پخوانیو کتابونو د بشاراتو په اساس معلومات لري او ښه پرې پوهیږي چه په یقین سره دا پاک قرآن اسماني کتاب دی چه ګردي (ټولې) خبرې ئې رښتیا او حکمونه ئې معتدل او منصفانه دي او هیڅوک نشي کولی چه څه تبدیل او تحریف پکښې وکړي. نو د داسې محفوظ او مکمل قانون او لوی کتاب له موجودیت سره څرنګه یو صادق مسلمان د وسوسو او اوهامو یا محض عقلي قیاساتو او مغویانه مغالطاتو ښکار کیدی شي؟ څرنګه چه دوی پوهیږي هغه الله تعالیٰ چه مونږ ئې په خپلو ځانونو حکم منلی، او لوی کتاب ئې مونږ دستور العمل ګرځولی دی، دی زمونږ د هرې خبرې اوریدونکی، او په هر قسم مواقعو او احوالو کښې په مناسبو احکامو او موزونو نتائجو یې پوره پوهیدونکی او ښه عالم دی.

وَاِنۡ تُطِعۡ اَكۡثَرَ مَنۡ فِى الۡاَرۡضِ يُضِلُّوۡكَ عَنۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ‌ؕ اِنۡ يَّتَّبِعُوۡنَ اِلَّا الظَّنَّ وَاِنۡ هُمۡ اِلَّا يَخۡرُصُوۡنَ ﴿۱۱۶﴾

او که متابعت وکړې (ته) د زیاترو د هغو کسانو چه په ځمکه کښې دي (له کفارو جهلاؤ) نو وابه ړوی دوی تا (ای محمده!) له لارې د الله، او نه کوي پیروي دوی مګر د ګمان او نه دي دوی مګر دروغ تړي (پر الله).

**تفسیر**: مشاهده او تاریخ دا راښیي چه په دنیا کښې فهیم او محقق او با اصوله انسانان تل لږ وو او اکثریت د همغو خلقو ؤ چه تش د خیالي بې اصولو او چتي (فضول) خبرو پیروي به ئې کوله که ته د دغه اکثریت خبرو ته غوږ کیږدې او پر بې اصولو خبرو باندې تګ شروع کړې نو د الله تعالیٰ د درښوولې سمې صافي لارې څخه په یقین سره بې لارې کیږې. د دې خبرې مخاطبه اګر که له تاسې سره ده، خو في الحقیقت نورو ته آوروله کیږي. د جاهلانو او عامو خلقو له دغو بې اصولو او چتي (فضول) خبرو څخې یوه دا وه چه هغو د ذبیحې پر مسئلې باندې تنقیدونه کول. او سره ویل به ئې: «هغه ساکښ (حیوان) چه په خپل مرګ ومري، یعنې مردار شي، دغه ته مسلمانان مردار وائي، حال دا چه هغه د پاک الله وژلي شوی ساکښ (ذي روح) دی بالمقابل دوی هغه مذبوحه حلاله ګڼي چه پخپله ئې ذبحه کړي وي. نو دا عجیبه کار دی» د دې خبرې ځواب په وروستنیو آیتونو کښې ورکړې شوی دی. چه ﴿فَكُلُوۡا مِمَّا ذُكِرَ اسۡمُ اللّٰهِ عَلَيۡهِ﴾ دی حضرت شاه صاحب فرمائي چه: «دغه څو آیتونه په دې مناسبت نازل شوي دي چه کفارو به ویل: مسلمانان د هغو ساکښو (ذي روحو) غوښې خوري چه دوی پخپله حلال کړي وي، او د هغو ـ نه خوري چه د پاک الله له لوري ئې سا ایستلې شوې وي. نو د داسې له

ځانه جوړی کړیو خبرو چه له فریبونو او تلمیع څخه ډکی وی انسانان د شیطان په ښوونه او لمسون په شکونو او شبهاتو کښی لوېږی، او شیطان دوی په ګمراهی کښی غورځوی، ښه وپوهیږئ چه په حل او حرمت او نورو احکامو کښی یوازی د پاک الله حکم چلیږی. او په دغو مواردو کښی تش داسی عقلی اتکلونه، او له خپل ځانه جوړ کړی دلیلونه څه اهمیت او اعتبار نه لری. وروسته له دی نه په ښکاره ډول (طریقه) سره دا راښیی، چه د ګردو (ټولو) ساکښانو (ذی روحو) وژونکی پاک الله دی. لیکن د ده په نامه کښی هسی برکت دی چه هره یوه مذبوحه په هغه سره حلاله او پاکیږی او هره یوه مذبوحه چه بی د ده د نامه اخیستلو په خپل سر مړه شی مرداره ده (موضح القرآن بتغیر یسیر).

---

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ مَن يَضِلُّ عَن سَبِيلِهِ ۖ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ ﴿١١٧﴾
فَكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ إِن كُنتُم بِآيَاتِهِ مُؤْمِنِينَ ﴿١١٨﴾

---

بیشکه رب ستا هم دی ښه عالم (دانا) دی په هغه چا چه ښوئیدلی دی له لاری د ده او هم دی ښه عالم (دانا) دی په سمی لاری صافی موندونکو نو وخورئ تاسی له هغه مذبوحی څخه چه یاد کړی شوی وی نوم د الله پر هغی باندی که یئ تاسی په آیتونو د الله ایمان لرونکی.

---

**تفسیر:** کله چه د دی واضحو او صحیحو دلائلو په بنا تاسی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نبوت او د قرآن کریم حقانیت تسلیم کړ، او په کلی ډول (طریقه) سره مو د هغه پر احکامو ایمان راوړ، نو اوس د هغه د فروعو او جزئیاتو د صحت تسلیمول هم ضروری دی که د هر اصل او فرع او کلی او جزئی شیانو قبول زمونږ پر قیاس باندی موقوف وی نو د وحی او د نبوت ضرورت هیڅ نه پاتی کیږی.

---

وَمَا لَكُمْ أَلَّا تَأْكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَقَدْ فَصَّلَ لَكُم مَّا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ إِلَّا مَا اضْطُرِرْتُمْ إِلَيْهِ ۗ

---

او څه مانع ده تاسی ته چه نه خورئ تاسی له هغی مذبوحی څخه چه یاد کړی شوی دی نوم د الله پر هغی (په وخت د ذبحی کښی) حال دا چه په تحقیق واضح کړی دی (الله) تاسی ته هغه چه حرام کړی دی پر تاسی (او

دغه مذبوحه باسم الله له هغو څخه نه ده) مګر هغه محرمات چه اړ (محتاج) کړی شوئ تاسی (خوراک د) هغو ته (نو هغه هم حلال دی):

**تفسیر:** يعني د اضطراري او مجبوری حالت په استثناء هغه شيان چه حرام دی د هغو تفصيل (په (٦) جزء د المائده په ٣ آيت اوله رکوع کښی) تير شوی دی. په هغو کښی هغه ساکښان (ذی روح) نه دی داخل چه د پاک الله په نامه ذبح کړی شوی وی، نو بيا له هغه څخه نه خوړل په څه دليل دی؟ او څه سند لری؟.

وَإِنَّ كَثِيرًا لَّيُضِلُّونَ بِأَهْوَائِهِم بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِالْمُعْتَدِينَ ﴿١١٩﴾

او بيشکه ډير له خلقو خامخا ګمراه کوی (خلق په تحليل او تحريم) په آرزوګانو خپلو بی له پوهی (او تحقيقه او برهانه، له جهله)، بيشکه رب ستا هم دی ښه عالم (دانا) دی په تيريدونکو (له شرعی حدودو هم).

**تفسیر:** زمونږ د مسلمانانو عقيده دا ده چه هر شی بالواسطه يا بلاواسطه هم دا پاک الله يی پيدا کوی. او هم دا پاک الله ئی وژنی، بيا همغسی د ده د پيدا کړو شيانو څنی د ځينو شيونو خوړل مونږ ته مرغوب او مفيد دی لکه مڼه، انګور، انار، خرما، انځر، متهه، سنتره، مالته او نور او له ځينو شيانو څنی نفرت او کرکه کوو يا ئی مضر ګڼو، لکه ناپاک او ګنده شيان او زهر او سنکهيا او نور، هم داسی د پاک الله وژلی شوی شيان هم پر دوه قسمونو دی: يو هغه چه سليم فطرت تری نفرت کوی، يا ئی خوراک زمونږ بدنی يا روحی روغتيا ته د الله تعالیٰ په نزد مضر وی، مثلاً هغه مړ حيوان (وينه لرونکی ساکښ «ذی روح») چه په خپل طبيعی مرګ (پخپل سر) مړ شی او د ده وينه په غوښه کښی جذبه شوی پاتی شی. بل هغه حلال او طيب ساکښ (ذی روح) چه له شرعی اصولو سره سم د پاک الله په نامه ذبح شوی وی، نو دغه مذبوحه هم د الله تعالیٰ مذبوحه ده چه يوه مسلمان د چړی په وسيله حلاله کړی وی مګر د ذبح د عمل او د پاک الله د نامه په برکت (او د هغی مذبوحی د تخصص په نوعيت سره) ئی غوښه پاکه او صافه او سپيځلی شوی ده نو هر هغه سړی چه دغه دواړه قسمونه سره يو شی ګڼی، هغه معتدی (له حده تيريدونکی) دی.

وَذَرُوا ظَاهِرَ الْإِثْمِ وَبَاطِنَهُ ۚ إِنَّ الَّذِينَ

يَكْسِبُونَ الْإِثْمَ سَيُجْزَوْنَ بِمَا كَانُوا يَقْتَرِفُونَ ﴿١٢٠﴾

او پرېږدئ تاسي ظاهره (ښكاره) گناه او باطنه (پټه) گناه (يعنى مطلق گناه) پرېږدئ!، بيشكه هغه كسان چه كسب كوى د گناه (ظاهراً يا باطناً) ژر به سزا وركړه شي دوى ته په سبب د هغو گناهونو چه وو دوى چه كسب كاوه به (ئى).

**تفسير:** يعنى ښائى د كفارو په ښوولو او ښوېولو باندى نه په ښكاره ډول (طريقه) سره عمل وكړئ او نه پخپلو زړونو كښى څه شك او شبهه پيدا كړئ! «كذا فى موضح القرآن» (لكه چه پخوا وليكل شو مشركانو مرداره حلاله گڼله، او ويل به ئى چه: «اى مؤمنانو! هغه حيوان چه پخپله مړ كيږى د هغه وژونكى څوک دى؟» مؤمنانو به ويل چه: «الله تعالىٰ!» نو مشركانو به بيا ويل چه: «تعجب دى هغه شي چه انسان او ښكارى سپى او باز او باښه او نور ئى وژنى هغه تاسى حلال گڼئ! او هغه چه الله تعالىٰ ئى وژنى، هغه حرام بولئ! دا ولى؟» او له داسى خبرو څخه راز راز (قسم قسم) وسوسى د ځينو ضعيف الاعتقادو مسلمانانو په زړونو كښى پريوتى، نو په دغه آيت چه اوس ئى مونږ په دغه مخ كښى په تلاوت سره افتخار مومو نازل شو)

وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُ لَفِسْقٌ ۗ وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ إِلَىٰ أَوْلِيَائِهِمْ لِيُجَادِلُوكُمْ ۖ وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ ﴿١٢١﴾ ع

او مه خورئ تاسي له هغى (مردارى) چه نه وى ياد كړى شوى نوم د الله پر هغى باندى (عمداً) او بيشكه چه دا خوراک خامخا گناه ده، او بيشكه شيطانان خامخا وسوسي اچوى دوستانو خپلو ته (چه كفار دى) له پاره د دى چه جگړه وكړى دغه (كفار) له تاسى سره (اى مسلمانانو!) او كه اطاعت وكړئ تاسى د دوى نو بيشكه تاسى به (هم) خامخا مشركان شئ.

**تفسير:** يعنى مه خورئ له هغى مرى چه پرى نه وى ياد كړى شوى نوم د الله تعالىٰ نه حقيقتاً او نه حكماً مونږ حنفيان د هغى مذبوحى په مسئله كښى چه د خداى جل جلاله نوم سهواً ورباندى نه وى اخيستى شوى دعوى كوو چه حكماً ورباندى ذكر شوى دى. (يعنى كه سهواً تسميه تركه

شوی وی، خوراک ئی روا دی، که عمداً ئی تسمیه نه وی ویلی نو خوراک ئی حرام او ناروا دی، او بیشکه چه دا خوراک خامخا گناه ده او بیشکه شیطانان خامخا وسوسی آچوی دوستانو خپلو ته چه کفار دی له پاره د دی چه جګړه وکړی دغه کفار له تاسی سره ای مسلمانانو او که اطاعت وکړئ تاسی د دوی نو بیشکه تاسی به هم خامخا مشرکان شئ) یعنی شرک یواځی هم دا نه دی چه د ما سواء الله عبادت وکړ شی، بلکه شرک په حکم کښی هم دی، چه د کوم شی په تحلیل او تحریم کښی شرعی استناد پریښود شی او تش د خپلو آراؤ، هوسونو او افکارو تابع شی لکه چه د ﴿ اِتَّخَذُوْٓا اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ﴾ په تفسیر کښی مرفوعاً منقول دی چه کتابیانو د الله تعالی وحی پریښی وه او یوازی د احبارو او رهبانانو وینا ئی د تحلیل او تحریم مدار او اساس ګرځولی وه لکه چه د بخاری او مختصر الزبیدی شروح ځینی د هرقل د حدیث په متعلق او ځینی په کتاب التفسیر کښی لیکی چه عدی بن حاتم وویل چه مونږ خو احبارو او رهبانانو ته عبادت نه دی کړی، رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه دا هم عبادت دی چه په تحلیل او تحریم کښی یوازی د دوی متابعت وکړئ).

---

اَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا فَاَحْيَيْنٰهُ وَجَعَلْنَا لَهٗ نُوْرًا يَّمْشِيْ بِهٖ فِي النَّاسِ كَمَنْ مَّثَلُهٗ فِي الظُّلُمٰتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا ؕ كَذٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكٰفِرِيْنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲۲﴾

---

آیا هر هغه څوک چه وی مړ (په کفر یا جهل) نو ژوندی کړو مونږ دی (په اسلام یا علم سره) او وګرځوو (ورکړو) مونږ ده ته نور (رڼړا) چه تګ کوی دی په دی سره په خلقو کښی په شان د هغه چا دی چه حال د هغه (داسی وی چه واقع وی) په تیارو کښی حال دا چه نه وی وتونکی له هغه (تورتم؟ بلکه نه دی. دا رنګه حال د مؤمن او کافر دی) هم داسی، (لکه چه ښائسته کړی شوی دی مؤمنانو ته ایمان) ښائسته کړی شوی دی کافرانو ته هغه شی چه دی دوی چه کوی (ئی له کفر او معاصیو څخه).

---

**تفسیر:** پرومبی ئی وفرمایل چه شیاطین د خپلو ملګرو په زړونو کښی داسی خبری غورځوی چه دوی له مسلمانانو سره جګړی وکړی یعنی بحث، جدل، تلبیس، تلمیع او وسوسی وراچوی، او دوی د حق له لاری لری کوی. لیکن دوی ته ښائی چه دغه خام او فضول هوسونه له خپلو زړونو

څخه وباسي، هغه ډله یا هغه سړی چه د جهل او ضلالت په مرګ مړ شوی وی، او بیا حق تعالیٰ دی د ایمان او عرفان په روح سره ژوندی او د قرآن کریم رڼا(رنړا) ورعطا کړی چه د هغی په لړلو سره دی د خلقو په هجوم کښی بی تکلفه په سمی صافی لاری تلی شی، نو آیا د ده حال د شیطانی اغواؤ په قبلولو کښی د هغو «اولیاؤ الشیاطینو» په شان کیدی شی، چه د جهالت او ضلالت په تورو تیارو کښی تپریږی، او در ګرده بدری خوری او له هغو څخه د باندی د وتلو هیڅ یوه لاره نشی موندلی ځکه دی هم دغه تیاره رڼا(رنړا) او قبح حسن ګڼی. او داسی له سره نشی کیدی ځینی مفسرین وائی چه دغه آیت د حضرت حمزه رضی الله تعالیٰ عنه یا حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه یا د حضرت عمار رضی الله تعالیٰ عنه او ابوجهل په حق کښی نازل شوی دی.

---

وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا فِي كُلِّ قَرْيَةٍ أَكٰبِرَ مُجْرِمِيهَا لِيَمْكُرُوا فِيهَا ۖ وَمَا يَمْكُرُونَ إِلَّا بِأَنْفُسِهِمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿١٢٣﴾

---

او (لکه چی موګرځولی دی فاسقان د مکی مشران) هم داسی ګرځولی دی مونږ په هر قریه (ښار) کښی مشران فاسقان د هغی قریبی دپاره د دی چه مکرونه (او حیلی) وکړی دوی په هغو کلیو (ښارونو) کښی او نه کوی مکرونه (او حیلی) دوی مګر خو له ځانونو خپلو سره حال دا چه نه پوهیږی دوی (چه ضرر ئی دوی ته دی).

---

**تفسیر:** یعنی یوازی داسی حیلی او پلمی (بهانی) د مکی معظمی رئیسانو له خپل ځانه نه دی جوړی کړی بلکه د نورو کفارو مشرانو به تل هم داسی پلمی(بهانی) او حیلی کولی، تر څو عوام الناس د رسولانو تابعدار نشی. لکه چه فرعون د موسوی معجزو له لیدلو څخه داسی پلمه (تدبیر) او حیله (بهانه) جوړه کړه چه موسی نعوذ بالله د سحر او کودو په زور د سلطنت نیولو په فکر کښی دی. لیکن د دوی دا پلمی (منصوبی) او حیلی بحمد الله پر پخو (خالصو) ایماندارانو له سره اثر نه کوی او پلمی (منصوبی) او حیلی کوونکی خپل پای (انجام) او عاقبت په خپله خرابوی، او په خپلو لاسونو خپلو ځانونو ته داسی زیانونه رسوی چه د هغو احساس اوس دوی نشی کولی.

---

وَإِذَا جَاءَتْهُمْ آيَةٌ قَالُوا لَنْ نُؤْمِنَ حَتّٰى نُؤْتٰى مِثْلَ مَا أُوتِيَ رُسُلُ اللّٰهِ ۘ اَللّٰهُ أَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهُ ۗ سَيُصِيبُ الَّذِينَ أَجْرَمُوا

صَغَارٌ عِنْدَ اللّٰهِ وَعَذَابٌ شَدِيْدٌۢ بِمَا كَانُوْا يَمْكُرُوْنَ ﴿١٢٤﴾

او کله چه به راغی دوی ته کوم آیت (وحی) نو ویل به دوی له سره مونږ ایمان نه راوړو (په دغی وحی) تر هغه پوری چه راکړی شی مونږ ته په شان د هغو آیتونو چه ورکړی شوی وو (نورو) رسولانو د الله ته، الله ښه عالم (ښه پوه) دی په هغه ځای چه ږدی رسالت خپل (هلته)، ژر به ورسیږی هغو کسانو ته چه مجرمان دی (په کفر سره) ذلت (سپکوالی) په نزد د الله (په آخرت کښی) عذاب سخت په سبب د هغه چه وو دوی چه مکرونه بی ئی کول (له مؤمنانو سره).

**تفسیر:** د دوی د مکاری، تکبر، حیلو او پلمو (منصوبو) لتولو یو مثال دا دی چه د انبیاؤ علیهم السلام د صدق کومه نمونه چه ګوری نو وائی چه مونږ په دغو دلائلو او علائمو باندی نه پوهیږو، مونږ هلته یقین کولی شو چه په مونږ کومه پرښته راښکته شی، او د رسولانو په شان مونږ ته هم د الله تعالیٰ پیغام راواوروی، یا دی پخپله پاک الله مونږ سره مخامخ شی:

﴿وَقَالَ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا الْمَلٰٓئِكَةُ اَوْ نَرٰى رَبَّنَا لَقَدِ اسْتَكْبَرُوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ وَعَتَوْ عُتُوًّا كَبِيْرًا﴾

(۱۹ جزء د الفرقان ۲۱ آیت ۳ رکوع) خیر دغه خبره خو الله تعالیٰ ته ښه معلومه ده چه څوک د دی وړ (لایق) او اهل دی چه د رسالت په منصب مشرف شی او د الله تعالیٰ د دی عظیم الشان امانت حامل وګرځی؟ دا نه کوم کسبی شی دی چه په دعا او ریاضت یا په دنیوی جاه او دولت سره حاصل شی او نه هر یو پاک او پلیت سری پرداسی یو جلیل القدره او مهمه ذمه واری باندی فائز او بریالی (کامیاب) کیدی شی، هو! داسی سپین سترګی متکبران، پلمه ګران، (بهانه بازان) حیله بازان او مکاران ښائی وپوهیږی او خبردار شی چه ژر به د دی معزز منصب د طلب ځواب دوی ته د سخت ذلت او شدید عذاب په صورت ورکړی شی.

**تنبیه :** پر دغه (وقف لازم) باندی چه «الله اعلم» څخه پخوا پر «رسل الله» واقع دی، دوه اسم ذاته سره یو ځای راغلی دی د دعا د قبلیدلو ځای دی.**(اللهم ربنا آتنا فی الدنیا حسنة وفی الاخرة حسنة وقنا عذاب النار).**

فَمَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ اَنْ يَّهْدِيَهٗ يَشْرَحْ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ ۚ وَمَنْ يُّرِدْ اَنْ يُّضِلَّهٗ يَجْعَلْ صَدْرَهٗ ضَيِّقًا حَرَجًا كَاَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِى السَّمَآءِ ؕ

پس هر هغه چه اراده وفرمائی الله چه هدایت وکړی ده ته نو پراخوی سینه

(زړه) د ده له پاره (د قبلولو) د اسلام، او هر هغه چه اراده وفرمائی (الله) د گمراه کولو د هغه (د ایمان له لاری) گرځوی (الله) سینه (زړه) د ده تنگ نهایت تنگ گواکی پورته درومی دی (په زحمت او زور سره) آسمان ته،

**تفسیر:** یعنی په زور سره آسمانونو ته ختل غواړی، ولی نشی ختلی ځکه زړه ئی تنگیږی. (یعنی د حق له قبوله داسی تښتی او لری کیږی چه وائی آسمان ته تری وختی یا لکه چه د یوه سری په مخکښی یو ډیر لوړ او مشکل کار وی چه ورته گوری او توان ئی ورته نه رسیږی او زړه ئی ورته تنگیږی، هم داسی ده ته هم اسلام سخت ښکاری.)

كَذَٰلِكَ يَجْعَلُ اللَّهُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٢٥﴾ وَهَٰذَا صِرَاطُ رَبِّكَ مُسْتَقِيمًا ۗ قَدْ فَصَّلْنَا الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٢٦﴾

هم داسی (چه تنگ کړی ئی دی زړونه د کفارو له قبوله د حق) نازلوی الله عذاب پر هغو کسانو چه نه راوړی ایمان. او هم دا (اسلام) لاره د رب ستا ده سمه صافه، په تحقیق واضح بیان کړی دی مونږ آیتونه له پاره د (هغه) قوم چه پند تری اخلی (پکښی غور کوی).

**تفسیر:** هغه کسان چه د ایمان راوړلو اراده نه لری، وربانِدی داسی عذاب او تباهی راځی چه ورو ورو د دوی سینی دومره تنگیږی چه په هغو کښی د حق د ننوتلو هیڅ ځای نه پاتی کیږی بیا نو هم دغه سینه تنگی (ضیق الصدر) داسی عذاب دی چه د قیامت په ورځ کښی په محسوس دول (طریقه) ور په مخه کیږی. محقق شیخ الهند قدس الله روحه د «رجس» ترجمه په عذاب سره کړی ده، چه دغه تقریر د هغه په اساس شوی دی، عبدالرحمن بن زید بن اسلم رحمة الله علیه هم د «رجس» معنی په عذاب سره کړی ده مگر ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما دلته له (رجس) ځنی شیطان مرادوی ښائی دا به له دی امله (وجی) وی چه رجس پلیتی ته وائی، او له شیطان څخه ډیر پلیت او ناپاک بل څوک نشته. په هر حال له دی تفسیره سره سم د آیت مطلب به داسی کیږی: هم دغسی چه پاک الله له ایمان ځنی د ویریدونکو سینه تنگوی، هم داسی پر هغوی باندی د بی ایمانی له وجی شیطان هم مسلط کاوه شی چه له سره د «رجوع الی الحق» توفیق دوی ته نه پاتی کیږی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه وایی: «اول ئی فرمایلی وو چه کافران قسمونه خوری چه که آیتونه او نښی وگوری نو هرومرو (خامخا) یقین او باور کوی اوس فرمائی چه مونږ دوی ته ایمان نه ور په برخه کوو. نو څرنگه به خپل آیتونه او نښی ورښیو. په منځ کښی یی د مری د حلال گڼلو حیلی ئی نقل کړی، اوس ئی د هغی خبری ځواب وفرمایه، د هر چا

عقل چه په دی لوری درومی چه خپله خبره پری نه ږدی او هر هغه دلیل چه واوری څه نه څه پلمه (تدبیر) او حیله جوړوی نو هغه د ګمراهی علامه ده. د هر چا عقل چه انصاف منی او د الهٰی حکمونو اطاعت کوی، هم دا د هدایت علامه ده. څرنګه چه په دغو خلقو کښی د ګمراهی نښه شته، نو پر دوی باندی به هیڅ یو آیت اثر نه کوی» باقی پاتی شوه دا خبره چه د ضلالت او هدایت د ارادی نسبت الله تعالیٰ ته شوی دی د دی په متعلق مونږ په متعددو مواضعو کښی خبری کری دی، او وروسته له دی به هم حسب الموقع لازمی لیکنی کیږی، خو دغه مسئله ډیره اوږده ده او معرکة الاراء ده. او مونږ غواړو چه په دی موضوع کښی یوه مستقله رساله ولیکو چه د هغی له لوستلو څخه به د دی تفسیر لوستونکو ته نوری فائدی هم ورسیږی.

لَهُمْ دَارُ السَّلٰمِ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَهُوَ وَلِيُّهُمْ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٢٧﴾

شته دی دغو (پند آخیستونکو) ته دار (کور) د سلامتیا (جنت) په نزد د رب د دوی او هم دغه «الله» ولی (مددګار) د دوی دی په سبب د هغو (اعمالو) چه وو دوی چه کول به ئی.

**تفسیر:** یعنی هر هغه څوک چه د اسلام او اطاعت په سمی صافی لاری درومی، هم دی به د سلامتیا کور ته ورسیږی او پاک الله به د ده ولی او دوست او مددګار شی. دا خو د هغو کسانو حال شو چه د دوی ولی او دوست الله تعالیٰ دی یعنی «اولیاؤ الرحمٰن» دی وروسته له دی د «اولیاؤ الشیطان» بیان کاوه شی.

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ۚ يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ قَدِ اسْتَكْثَرْتُمْ مِّنَ الْإِنْسِ ۚ

او (یاده کړه) هغه ورځ چه جمع به کړی (الله) دوی تول، (او وبه ویل شی) ای جماعته د جنیانو (د پیریانو) په تحقیق چه ډیر مو تابع کړی دی تاسی له انسانانو.

**تفسیر:** یعنی ای شیاطین الجن! تاسی ډیر بدبخت انسانان خپل لوری ته متوجه کړی دی او په خپله لاره مو هغه روان کړی دی.

وَقَالَ أَوْلِيَاؤُهُمْ مِّنَ الْإِنْسِ رَبَّنَا اسْتَمْتَعَ بَعْضُنَا بِبَعْضٍ
وَّبَلَغْنَا أَجَلَنَا الَّذِيْ أَجَّلْتَ لَنَا ۚ

او وبه وايي دوستان د دوی له انسانانو څخنی، ای ربه زمونږ نفع اخیستی ده ځینو زمونږ په ځینو (نورو) او رسیدلی یو مونږ نیتی خپلی ته هغه نیته چه مقرره کړی وه تا مونږ ته (چه قیامت دی او مونږ تری منکران وو نو اوس به زمونږ څه حال وی؟)،

**تفسیر:** په دنیا کښی هغه انسانان چه د بتانو او نورو عبادت کوی، دوی فی الحقیقت د خبیثو پیریانو (شیاطینو) عبادت کوی، او دغو به په دی گمان د شیاطینو عبادت کاوه چه دوی به زمونږ په کار او ښه راشی، نو ځکه به یی د دوی په نامه نذرونه، نیازونه او خیراتونه ورکول. برسیره په دی د اهل جاهلیت ډیرو کسانو د تشویش او اضطرابونو په وخت کښی له پیریانو څخنی هم استعانت غوښت لکه چه د «الجن» په سورت کښی ورته اشاره شوی ده او ابن کثیر رحمة الله علیه او نورو داسی روایتونه هم نقل کړی دی چه کله د آخرت په ورځ کښی دغه شیاطین الجن او شیاطین الانس یو ځای سره ونیولی شی، او د گردو (ټولو) حقائقو انکشاف وشی، نو هلته به مشرکان داسی عذر کوی چه ای زمونږ ربه! مونږ د دوی عبادت نه دی کړی، مگر خو پخپلو منځونو کښی مو سم د لاسه موقتی کارونه کول او د مرگ د وعدی له راتللو څخه لا پخوا مونږ په دنیوی کارونو او خپلو چارو کښی د پر مخ بیولو دپاره یو د بل کارونه چلول او ځینی ترتیبونه مو سنجول(سمول)، د دوی عبادت او منل مو له سره مقصود نه ؤ.

قَالَ النَّارُ مَثْوٰىكُمْ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ

او وبه فرمائی (دوی ته الله) چه اور ځای ستاسی دی حال دا چه همیشه به اوسیږ تاسی په دغه اور کښی مگر (کله) چه اراده وفرمائی الله (د ایستلو د دوی زمهریر یا حمیم یا بل کوم عذاب ته)،

**تفسیر:** دا ئی «کله چه اراده وفرمائی الله» د دی دپاره وفرمایه چه د دوزخ عذاب چه دائم دی، خو د هم ده په اراده سره دی هر کله چه اراده وفرمائی د هغه پر موقوفولو هم قادر دی. لیکن پر هغه شی ئی چه اراده کړی ده، او د هغی خبر ئی د رسولانو په ژبه ورکړی دی هغه له سره تبدیل کیدونکی نه دی.
عموماً مفسرینو د دی آیت ترجمه داسی کړی ده: «وبه فرمائی دوی ته الله چه اور ځای ستاسی دی چه همیشه به اوسیږ تاسی په دغه اور کښی مگر کله چه اراده وفرمائی الله د ایستلو د دوی زمهریر، یا حمیم یا بل کوم عذاب ته، نو په دغه وخت کښی به په اور کښی نه وی» چه هم دغه ترجمه غوره ده: ځینو نورو په دغه مورد کښی داسی لیکلی دی، چه شیخ الهند رحمة الله علیه

هغه ليکلي دي يعني «وبه فرمائي اور دي کور ستاسي تل به اوسيږئ په هغه کښي مگر کله چه اراده وفرمائي الله،».

إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿١٢٨﴾

بيشکه رب ستا ښه حکمت والا ښه عالم (ډير خبردار) دی.

**تفسير :** يعني د مجرمانو له جرائمو څخه په ښه ډول (طريقه) سره خبردار دی، او له خپل بالغه حکمت سره سم د هر جرم په ځای او تناسب سره سزا ورکوی.

وَكَذَٰلِكَ نُوَلِّي بَعْضَ الظَّالِمِينَ بَعْضًا بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿١٢٩﴾ ع

او هم داسی (چه په دنيا کښي انسي او جني کفار مو يو په بل باندی مسلط کړی دی په عقبا کښي هم) مسلطوو مونږ ځيني ظالمان په ځينو (نورو) په سبب د هغو اعمالو چه وو دوی چه کول به ئی.

**تفسير:** لکه چه تاسی د «شياطين الجن» او د دوی د انسي اولياؤ حال واوريده، هم داسی مونږ گرد (تول) ظالمان او گنهگاران د دوی د ظلمونو او بدو کارونو په تناسب به په دوزخ کښي يو له بله سره نژدی کوو، او د هری درجی ظالم، او گنهگار چه وی دی به د نافرمانانو په همغه طبقه کښي اچوو. بيا به وويل شي دوی ته داسی چه:

يَٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنكُمْ يَقُصُّونَ عَلَيْكُمْ
ءَايَٰتِي وَيُنذِرُونَكُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَا ط

ای جماعته د جنيانو (پيريانو!) او انسانانو! آيا نه وو راغلي (بلکه راغلي وو) تاسی ته رسولان له هم دا تاسی نه چه بيانول به دوی پر تاسی آيتونه (احکام) زما او ويرول‌ځ به ئی تاسی له ملاقات د ورځی ستاسی څخه چه دا ده،

**تفسير:** پاس د پيريانو او د انسانانو د شرارت او سزا بيان ؤ، او فی الجمله د «اولياؤ الجن»

ژبنی (زبانی) معذرت هم نقل کړی شوی ؤ، اوس دا راښوولی کیږی چه د دوی هیڅ یو معذرت معقول او د اوریدلو لائق نه دی، په دنیا کښی په دوی د الله تعالیٰ حجت تمام شوی ؤ چه پر هغه باندی به دوی پخپله هم اقرار وکړی. دغه د ﴿ يَٰمَعۡشَرَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ ﴾ خطاب به د قیامت په ورځ کښی وی او مخاطب پیریان او انسانان یعنی د مکلفانو توله مجموعه ده هر جماعت بیل بیل مخاطب نه دی، چه داسی اعتراض وارد شی چه رسولان خو تل په انسانانو کښی مبعوث شوی دی او په پیریانو کښی هیڅ یو رسول نه دی لیږلی شوی، نو بیا د «رسل منکم ـ رسولان له هم دا تاسی نه» ویل به څرنګه صحیح وی؟ اصل دا دی که د مخاطبینو په مجموعه کښی په ظاهری یوی نوعی کښی د رسل اتیان او راتګ متحقق شی، چه غرض ئی ګردو (تولو) مخاطبینو ته بلا تخصیص فائده رسول وی، نو تولی مجموعی ته په خطاب کولو کښی هیڅ اشکال نه پاتی کیږی مثلاً که څوک ووائی چه «ای د عربو او عجمو اوسیدونکو او د مشرق او مغرب ساکنانو! آیا هم دا ستاسی له منځه پاک الله لکه محمد صلی الله علیه وسلم کامل انسان نه دی پیدا کړی؟» د دی عبارت مطلب د هیچا په نزد داسی کیدی نشی چه یو محمد صلی الله علیه وسلم په عربو کښی پیدا شوی دی، بل ئی ښائی چه په عجمو کښی وی، هم داسی به د مشرق بیل او د مغرب به جلا (جدا) محمد وی نو هلته به دا عبارت صحیح وی، علیٰ هذا القیاس دلته داسی وپوهیږئ چه د ﴿ يَٰمَعۡشَرَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ ﴾ الآیة ـ مدلول یوازی هم دغومره دی چه د جن او انس له مجموعی څخنی رسول لیږلی شوی دی. پاتی شو دا تحقیق چه په هره نوع کښی بیل بیل رسول راشی، یا هر یو رسول د جن او انس ګردو (تولو) افرادو دپاره مبعوث شوی وی، نو دا آیت له دی بیانه ساکت دی، د نورو نصوصو له مخی ګردو (تولو) عالمانو هم دا ثابته کړی ده چه نه د هر یوه رسول بعثت عمومی دی او نه الله تعالیٰ کوم یو جن د مستقل رسول په حیث لیږلی دی د معاش او معاد په اکثرو معاملو کښی دوی حق تعالیٰ د انسانانو تابع ګرځولی دی، لکه چه د «جن» د سورت آیتونه او احادیث او نور پری دلالت کوی. دا کومه ضابطه نه ده چه د مخلوق د هری نوعی دپاره د همغی نوعی کوم سری رسول ولیږل شی. باقی د انسانانو په لوری د پرښتو لیږل د رسالت په دول (طریقه) د دی په نسبت هغه انکار چه د پاک قرآن په متعددو مواضعو کښی شوی دی، د هغو اصلی منشأ هم دا ده چه عام انسان د پرښتو د لیدلو تحمل په خپل اصلی هیئت سره نشی کولی او د بی اندازی خوف او هیبت له وجی نشی تری مستفید کیدی او که د انسان په صورت راشی نو بلا ضرورت التباس واقع کیږی. په هم دی قیاس سره که د پیریانو په قوم کښی د نبوت د منصب اهلیت وی نو دوی به د انسانانو دپاره له سره نه مبعوث کیدل، ځکه چه هلته به هم دغه اشکال ؤ هو! د انسی رسول مبعوثیدل (راپورته کیدل) د پیریانو په لوری د دی له امله (وجی) مشکل نه دی چه د پیریانو په حق کښی د انسانانو رؤیت نه خو غیر قابل تحمل دی او نه د انسانانو صوری خوف او رعب د استفادی مانع کیدی شی. له بل لوری حق تعالیٰ خپل رسول ته داسی د زړه قوت عطا فرمایلی دی چه لکه د پیریانو د یوه هیبتناک مخلوق ویره او رعب هم هیڅ پری نه لویږی.

قَالُوْا شَهِدْنَا عَلٰٓى اَنْفُسِنَا وَغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا

نو وائی به چه شاهدی وایو پر (گناهونو د) ځانونو خپلو (او په راتگ او تبليغ د رسولانو نو وبه فرمائی الله چه) او غره کړی (او غولولی ؤ دوی ژوندون لږ خسيس (دنيوی ژوندون)

**تفسیر:** يعنی دنيوی لذتونو او شهوتونو دوی له آخرت څخه غافل کړی دی، دغه خبره ئی له سره په خيال کښی هم نه گرځی چه له هغه احکم الحاکمين سره مخامخ کيدونکی يو چه د يوی يوی ذری حساب اخلی.

وَشَهِدُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ اَنَّهُمْ كَانُوْا كٰفِرِيْنَ ﴿۱۳۰﴾

او شاهدی ورکړه دوی پر ځانونو خپلو باندی چه بيشکه دوی وو کافران (په دنيا کښی).

**تفسیر:** په دی سورت کښی پورته ذکر شو چه اول به کافران له خپله کفره انکار کوی بيا به الله تعالیٰ پخپل تدبير دوی قائلوی.

ذٰلِكَ اَنْ لَّمْ يَكُنْ رَّبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرٰى بِظُلْمٍ وَّاَهْلُهَا غٰفِلُوْنَ ﴿۱۳۱﴾ وَلِكُلٍّ دَرَجٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوْا ؕ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۳۲﴾

دغه (ارسال د رسل) دپاره د دی دی چه نه دی رب ستا هلاک کوونکی د (اهل د ښارونو او د) کليو په ظلم سره حال دا چه اهل د دی (کليو او ښارونو) غافلان (بی خبران) وی او هر چاته درجی دی (په ثواب او عقاب کښی) له (جزا د) هغو اعمالو چه کړی وی دوی او نه دی رب ستا غافل (بی خبره) له هغو شيانو چه دوی (ئی) کوی.

**تفسیر:** يعنی د الله تعالیٰ دا عادت نه دی چه بی له خبرولو او پوهولو څوک د ظلم او عصيان په

ګناه باندې په دنيا يا آخرت کښې ونيسي او هلاک ئې کړي نو ځکه پيغمبران او ويروونکي يې وليږل چه په ښکاره ډول (طريقه) تولو جنيانو او انسانانو ته د دوي ښه او بد، ابتداء او انتهاء ور څرګند او ګرد (تول) پرې خبردار کړي بيا چه د چا عمل په کومه درجه او اندازه وي الله تعالیٰ به له هغه سره همغسې معامله وکړي.

وَرَبُّكَ الْغَنِيُّ ذُو الرَّحْمَةِ ۚ إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَسْتَخْلِفْ مِن بَعْدِكُم مَّا يَشَاءُ كَمَا أَنشَأَكُم مِّن ذُرِّيَّةِ قَوْمٍ آخَرِينَ ﴿١٣٣﴾ إِنَّ مَا تُوعَدُونَ لَآتٍ ۖ وَمَا أَنتُم بِمُعْجِزِينَ ﴿١٣٤﴾

او رب ستا غني (بې پروا) دی (له بندګانو او د دوی له عباداتو) څيښتن (خاوند) د رحمت دی (د عذاب په ژر نه ليږلو) که اراده وفرمائي نو بوځي به تاسي او خليفه (ځای نيوونکي ستاسي) به کړي وروسته له تاسي هر هغه چه اراده وفرمائي لکه چه پيدا کړي ئې يئ تاسي له اولادې د قوم نورو نه، بيشکه هغه شي چه له تاسي سره ئې وعده کولی شي (چه قيامت دی) ضرور راتلونکی دی او نه يئ تاسي عاجز کوونکي (د الله تعالیٰ په قدرت د ده کښې).

**تفسير:** الله تعالیٰ خپل حجت پر تاسي د رسول په ليږلو تمام کړ، اوس که تاسي د الله تعالیٰ احکام نه منئ او په سمه صافه لاره نه درومئ، نو الله جل جلاله غني دی او د تاسي او د نورو هيڅ پروا نه لري، که پاک الله اراده وکړي نو تاسي ګرد (تول) به په يوه شيبه (دقيقه) کښې له منځه يوسي او د ستاسي په ځای به په خپل فضل او مرحمت سره بل قوم ودروي، چه د الله تعالیٰ مطيع او وفادار وي، او دغه ستاسي بيول او د بل صالح قوم راوستل پاک الله ته هيڅ څه اشکال نه لري، دا چه نن تاسي د خپلو پلرونو او نيکونو په ځای ناست يئ، د پاک الله کار دی چه دوی ئې عقبیٰ ته بيولي او تاسي ئې په دغه دنيا کښې د دوی په ځای کښېنولي يئ او ځای يې درکړی دی. په هر حال د الله تعالیٰ کار بيرته پاتي کيدونکی او ستنيدونکی (واپس کيدونکی) نه دی. که تاسي ئې په ځای رانه وړئ پر بل به ئې په ځای کړي. هو! دغه خبره له خپلو ځانونو سره ښه وسنجوئ، (غور وکړئ) که د ستاسي هم دغه شرارت دوام کوي نو د پاک الله عذاب هرومرو (خامخا) پر تاسي راتلونکی دی او تاسي ترې نجات موندونکي نه يئ دغه انکار محض حماقت دی. که ګرد (تول) مخلوقات هم لاس سره يو کړي او ورته متفق شي، بيا هم دوی د الله جل جلاله د ارادې او مشيت مخه نشي نيولی.

قُلْ يٰقَوْمِ اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ اِنِّيْ عَامِلٌ ۚ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۙ
مَنْ تَكُوْنُ لَهٗ عَاقِبَةُ الدَّارِ ؕ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۱۳۵﴾

ووايه چه ای قومه زما عمل کوئ تاسی پر حالت خپل سره (چه کفر او عداوت دی) بیشکه زه هم عمل کوونکی یم (پخپل حال سره چه ایمان او استقامت دی)، پس ژر به پوه شئ تاسی چه څوک چه وی به ده ته (محمود) عاقبت د دار (د آخرت بالیقین) شان دا دی نه مومی بری ظالمان (کافران له عذابه د نیران)

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ تاسی په خیر او شر، نفع او ضرر، نیک او بد گردو (تولو) مطلع او خبر کړی یئ، که سره له هغه هم تاسی پری ونه پوهیږئ او پر خپلو ځانونو ظلم وکړئ او له دی تیری او تجاوز څخه لاس وانه خلئ نو تاسی په دغه شرارت کښی دوام وکړئ زه به هم خپله فریضه اداء کړم او عنقریب به دا خبره ښکاره شی، چه د دی دنیا انجام د چا په لاس کښی دی؟ بی له شکه او شبهی د ظالمانو پای (اخر) او انجام ښه نه دی وروسته له دی د دوی د هغو څو اعتقادی او عملی ظلمونو بیان کاوه شی چه په دوی کښی رائج وو، او له گردو (تولو) څخه خورا (دیر) لوی ظلم هغه دی چه د هغه په نسبت ئی فرمایلی دی. ﴿ اِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ ﴾

وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ مِمَّا ذَرَاَ مِنَ الْحَرْثِ وَالْاَنْعَامِ نَصِيْبًا فَقَالُوْا هٰذَا لِلّٰهِ
بِزَعْمِهِمْ وَهٰذَا لِشُرَكَآئِنَا ۚ فَمَا كَانَ لِشُرَكَآئِهِمْ فَلَا يَصِلُ اِلَى
اللّٰهِ ۚ وَمَا كَانَ لِلّٰهِ فَهُوَ يَصِلُ اِلٰى شُرَكَآئِهِمْ ؕ سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ﴿۱۳۶﴾

او مقرر کړی دی دغو (مشرکانو) الله ته له هغه شی چه پیدا کړی دی الله تعالیٰ (هغه) له کښته (فصله) او چارپایانو یوه برخه نو وائی دوی دا برخه دپاره د الله ده په زعم (عقیده) د دوی سره او دا (بله برخه) دپاره د شریکانو زمونږ ده، نو هغه برخه چه وی دپاره د شریکانو د دوی، پس (هغه) نه رسیږی الله ته او هغه برخه چه وی دپاره د الله نو هغه رسیږی شریکانو د دوی ته ( چه بتان دی، ډیر) بد دی هغه حکم (انصاف) چه کوی ئی دوی.

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب فرمائی چه: «کافرانو به له خپلو کښتونو (فصلونو) او د چارپایانو له بچیانو څخه د الله تعالیٰ په نامه نذرونه او نیازونه ایستل او د بتانو په نامه به ئی هم نیازونه او نذرونه تاکل (مقررول). نو بیا کله چه هغه ساکښ (ذی روح) چه د الله پاک په نامه تاکلی (مقرر) شوی ؤ څه قدر به ئی بهتر لیدو نو هغه به ئی د بتانو له ساکښو (ذی روحو) سره بدلاوه، مګر د بتانو له لوری به ئی د الله تعالیٰ په لوری نه بدلاوه او له هغو دیر ویریدل» هم داسی په کښت (فصل) او کر، په غلو او دانو. میوو او نورو شیانو کښی هم که د بتانو د نامه نذر اتفاقاً د پاک الله برخی سره ګډه کیده، نو هغه به ئی تری بیلاوه، او د بتانو په لوری به ئی ورستناوه که د الله پاک برخه د بتانو په برخو کښی ورتله، نو هغه به ئی نه ستنوله او داسی پلمی (تدبیرونه) او بهانی به ئی جوړولی چه الله تعالیٰ خو غنی دی که د هغه له برخه څخه څه کمه شی هیڅ پروا نه لری په خلاف د بتانو چه هغوی داسی نه دی. د تماشی خبره دا وه چه دوی له داسی ویناؤ څخه هم نه شرمیدل چه هغه بتان چه په دی اندازه محتاج وی نو بیا دوی څرنګه معبود او مستعان درواه شی؟ او د داسی شیانو عبادت او احترام د کوم پوه او عقلمن کار دی؟ په هر حال په دی آیت کښی په ﴿ سَآءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴾ سره د مشرکینو د دی تقسیم تردید وکړ شو. یعنی د الله تعالیٰ په پیدا کړو شوو کښتونو (فصلونو) او مواشیو او نورو کښی اول د غیر الله د برخی تاکل (مقررول) او بیا د خرابو ناقصو شیانو نسبت پاک الله ته کول څومره ظلم؟ او بی انصافی ده؟.

---

وَكَذَٰلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٍ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ قَتْلَ أَوْلَادِهِمْ شُرَكَآؤُهُمْ لِيُرْدُوهُمْ وَلِيَلْبِسُوا عَلَيْهِمْ دِينَهُمْ ۖ

---

او (لکه چه مزین کړی شوی دی دوی ته دا د اموالو قسمت) هم داسی ښائسته کړی دی ډیرو مشرکانو ته وژل د اولاد خپل شریکانو د دوی (چه شیطانان دی) دپاره د دی چه هلاک کړی دوی او (بل) له پاره د دی چه ګډ کړی (دا شیطانان) پر دوی باندی (ابراهیمی) دین د دوی،

---

**تفسیر** : ( « شرکاء» مرفوع او د «زین» فاعل دی) دلته د (شرکاء) تفسیر مجاهد رحمة الله علیه په «شیاطین» سره کړی دی. د مشرکانو د انتهائی جهالت، ظلم او تیری یوه نمونه دا وه چه څینو د دوی به خپلی نجونی (جینکۍ) د څوم له شرمه، او د خسر ګرځیدلو له عیبه، او څینو خپل نور حقیقی اولادونه د دی اندیښنی له سببه چه له کومه او څه به وخوری، وژل او کله کله به ئی په خپلو ځانونو باندی داسی نذرونه منل، که دومره اولاد زما کره وشی، یا می فلانی

مراد پوره شي، نو خپل يو ولد به د فلاني بت په نامه ذبح کړم، او دغه ظلم او تيرى او بى رحمى به ئې لوى عبادت او قربت ګڼه، لکه چه شياطينو هم دغه بد رسم دوى ته د الٰهى خليل د سنت پشان ښايسته ورخرګند کړى ؤ، په يهودانو کښې تر يوى مودى پورى د اولادونو قتل د قربت او عبادت په ډول (طريقه) جارى ؤ چه د هغه ترديد د بنى اسرآئيلو انبياؤ عليهم السلام او علماؤ په ډير شدت او قوت سره وکړه په هر حال په دى آيت کښى يى د اولاد د قتل د هغو ګردو (ټولو) صورتونو شناعت بيان فرمايلى دى چه په جاهليت کښى رائج ؤ يعنى شياطينو د اولاد د قتل تلقين او تزئين د دى له امله (وجى) کاوه، چه په هغه سره په دنيا او آخرت په دواړو کښى خلق تباه او برباد کړى، او د دوى په دين کښى اختلال او جنجال پيښ کړى، هغه کار چه د ابراهيمى او اسماعيلى ملت سره بيخى متضاد او منافى دى، هغه د يوه دينى کار په شان عبادت او قربت معرفى کړى (العياذ بالله) چيرى ابراهيمى سنت او چيرى دا حماقت او جهالت؟.

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا فَعَلُوْهُ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُوْنَ ﴿١٣٧﴾

او که اراده فرمايلى وى الله (په نه کولو د دى کار) نو نه به ؤ کړى دوى دا کار نو پريږده دوى او هغه چه دروغ وائى دوى (پر الله باندى).

**تنبيه :** هم داسى يو آيت په (٨) جزء د «الانعام» د سورت په (لومړى آيت ١٤ رکوع) او په نورو ځايونو کښى هم په هم دى مضمون نور آيتونه شته، هر هغه شى چه د دغو متحد المضامينو آيتونو په تفاسيرو کښى هلته ليکل شوى دى، هغه دى دلته بيا وکتل شى!.

وَقَالُوْا هٰذِهٖۤ اَنْعَامٌ وَّحَرْثٌ حِجْرٌ لَّا يَطْعَمُهَآ اِلَّا مَنْ نَّشَآءُ بِزَعْمِهِمْ وَاَنْعَامٌ حُرِّمَتْ ظُهُوْرُهَا وَاَنْعَامٌ لَّا يَذْكُرُوْنَ اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهَا افْتِرَآءً عَلَيْهِ سَيَجْزِيْهِمْ بِمَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿١٣٨﴾

او وائى دوى چه (دغه برخه د بتانو که) چارپايان دى او (که) کښت (فصل) ممنوع (حرام) دى چه نه به خورى له دى مګر هغه څوک چه زمونږ خوښ وى په ګمان د دوى سره سم او (ځينى) چارپايان دى چه حرامى کړى شوى دى شاګانى د دوى (له سوريدلو) او (ځينو نور) چارپايان دى چه نه يادوى دغه (مشرکان په وخت د ذبح کښى) نوم د الله پر دوى بلکه (نوم د

بتانو پرې يادوي او نسبت كوي د دغو احكامو الله ته) په طريقه د دروغ تړلو په الله، ژر به سزا ورکړي دوی ته (الله) په سبب د دی چه وو دوی دروغ به ئی تړل (پر الله).

**تفسير :** مثلاً چه نارينه ئی وخوري او ښځي ئی ونه خوري. يا دی نذراني يوازي همغه كسان وخوري چه د بتخانو مجاوران وي، دا قيود ئی يوازي په خپلو خيالونو سره د ځينو چارپايانو او كښتونو (فصلونو) په متعلق وضع كړي وو چه د بتانو په نامه به ئی وقفول، هم داسي يې سورلي او بار وړل هم د ځينو ساكښانو (چارپايانو) په شا حرام ګڼل، د ځينو مواشيو په نسبت ئی داسي فيصله كړي وه چه د ذبحي يا د سورلي يا لوشلو په وخت كښي پر هغوی د الله تعالیٰ نوم وانخيست شي، او هيڅيري د بتانو په شيونو كښي الله تعالیٰ شريک نشي. برسيره په دی، لوی غضب دا ؤ چه د هسی خرافاتو او جهالتونو نسبت ئی د الله تعالیٰ په لوري كاوه، ګواكي (معاذ الله) هم ده داسي احكام صادر فرمايلي دي او په هم دغو طريقو سره د ده خوښي او خوشالي حاصليدی شي، له داسي بدو عناوينو سره ئی داسي بهتان او افتراء هم كوله ژر به دوی د داسي ګستاخي او سپين سترګي له سزاوو سره مخامخ شي.

وَقَالُوا مَا فِي بُطُونِ هَٰذِهِ الْأَنْعَامِ خَالِصَةٌ لِّذُكُورِنَا وَمُحَرَّمٌ عَلَىٰ أَزْوَاجِنَا ۖ وَإِن يَكُن مَّيْتَةً فَهُمْ فِيهِ شُرَكَاءُ ۚ سَيَجْزِيهِمْ وَصْفَهُمْ ۚ إِنَّهُ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿١٣٩﴾

او وائی دوی چه هغه شی چه په ګيډو د دی چارپايانو كښي دی خالص دی لپاره د نارينه ؤ زمونږ او حرام كړی شوی دی پر ښځو زمونږ، او كه وی هغه، مرداره نو دوی (نر او ښځه) پكښي شريكان دی، ژر به سزا وركړي (الله) دوی ته د (دی) تقرير د دوی، بيشكه دغه (الله) ښه حكمت والا دی (چه هر كار په تدبير او مصلحت سره كوي) ښه علم والا (په هر شي دانا)

**تفسير:** يوه داسي مسئله ئی هم له ځانه جوړه كړي وه كه بحيره او سائبه ئی ذبح كړه او د هغو له ګيډو ځني كوم ژوندی بچي ووت نو د هغه له غوښي څخه دی نارينه وخوری! او ښځي دی نه خوری او كه مړ ووت، تول ئی تری خوړی شي. د داسي بی سندی مسئلي د جوړوونكو له حاله پاک الله بی خبره نه دی. هو! دی به له خپل حكمت سره سم په مناسب وخت كښي هغو ته مناسبه سزا وركوي. (او بيشكه الله څيښتن (خاوند) د حكمت دی په حكم د حلالو او حرامو

بلکه په هر شي کښې او ښه دانا دی په مصالحو د بندګانو خپلو په حل او په حرمت او نورو کښې).

قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ قَتَلُوْٓا اَوْلَادَهُمْ سَفَهًاۢ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّحَرَّمُوْا مَا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ افْتِرَآءً عَلَى اللّٰهِ ؕ قَدْ ضَلُّوْا وَمَا كَانُوْا مُهْتَدِيْنَ ﴿١٤٠﴾

بیشکه زیان کړی دی هغو کسانو چه وژلی ئی دی اولاد خپل له جهته د بی عقلی بی له پوهی او حرام کړی ئی دی هغه شیونه چه رزق (روزی) ورکړی دی دوی ته الله له جهته د دروغ تړلو پر الله پوری، بیشکه ګمراهان شوی دی دوی او نه دی دوی لاره موندونکی (حق ته).

**تفسیر:** له دی نه لویه خرابی، ګمراهی، نقصان او خسران به نور څه وی چه دوی خوشی چتی (فضول) په ناحقه په دنیا کښې له خپلو اولادونو او اموالو څنی بی برخی او محروم شول او په کلک زړه توب، بداخلاقی، او جهل سره مشهور وګرځیدل. او د آخرت دردناک عذاب ئی په خپلو ځانونو واخیست نه ئی له عقله کار واخیست، او نه ئی شرع وپیژندله، نو بیا که دوی سمی لاری ته د راتګ په فکر کښې کیدل، نو څرنګه به وررسیدل؟.

وَهُوَ الَّذِيْٓ اَنْشَاَ جَنّٰتٍ مَّعْرُوْشٰتٍ وَّغَيْرَ مَعْرُوْشٰتٍ وَّالنَّخْلَ وَالزَّرْعَ مُخْتَلِفًا اُكُلُهٗ وَالزَّيْتُوْنَ وَالرُّمَّانَ مُتَشَابِهًا وَّغَيْرَ مُتَشَابِهٍ ؕ كُلُوْا مِنْ ثَمَرِهٖٓ اِذَآ اَثْمَرَ وَاٰتُوْا حَقَّهٗ يَوْمَ حَصَادِهٖ ۖ وَلَا تُسْرِفُوْا ؕ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿١٤١﴾

او الله هغه ذات دی چه پیدا کړی ئی دی باغونه (د انګورو له ځمکی) هسک (اوچت) کړی شوی (پر لرګیو) او غیر هسک (اوچت) کړی شوی (پراته پر ځمکه) او د خرما ونه او کښت (فصل) چه مختلفی وی میوی (حاصل) د هغو (په رنګ او خوند کښې) او زیتون (ښون) او انار (نرګوسی) چه متشابه وی (په ونو او پانو کښې) او غیر متشابه وی (میوی د هغو په مزو کښې)، خورئ تاسی له میوی د هغی څنی کله چه میوی ونیسی او اداء کړئ حق د هغی په ورځ د ریبلو (شوکولو) د دی، او بی ځایه یی مه صرفوئ تاسی،

بیشکه چه الله نه خوښوي مسرفان (تیریدونکي له حدودو).

**تفسیر :** هسک (اوچت) کړی شوي لکه انګور چه پر چیلو او نورو هسکیږي (اوچتیږي) او غیر هسک (اوچت) کړی شوي (چه په خپله هسک (اوچت) وي) لکه خرما، منه، بادام او پسته او نوري دد (تنه) لرونکي وني یا (غوړیدلي په ځمکه لکه) ختکي، هندواني او نور چه د هغو ځیلي (جوړنګ) بي د بل کوم شي له اتکاء د ځمکي پر مخ غځیږي او خوریږي.

(﴿أُكُلُهُۥ﴾: اکل میوو او دانو او نورو هغو شیانو ته وائي چه خوړل کیږي.) «متشابهاً» یعني په صورت او شکل کښي یو له بل سره مشابه او ورته وي، خو په خوند او مزه کښي سره بیل او جلا (جدا) وي.

(﴿كُلُواْ مِن ثَمَرِهِۦٓ﴾، خورئ له میوی د هغی) یعني هغه غلی او میوی چه الله تعالیٰ پیدا کړي دي د هغوی له خوړلو څخه بي له کومه سنده ځان مه ساتئ هو! د دي دوه خبرو فکر او خیال تل ولرئ چه د ریبلو او تولولو په وخت کښي هغه حق چه د الله تعالیٰ دی، هغه ورکړئ او نور فضول او بي موقع صرفول او ښندل (نوستل) مه کوئ!. د الله تعالیٰ له حق څخه دلته مراد څه شي دی؟ د دي په نسبت عالمان مختلفي خبري کوي. د ابن کثیر رحمة الله علیه له روایت ځني دا ښرګندیږي چه ابتداء په مکی معظمی کښي د کښتونو (فصلونو) او باغونو په حاصلاتو کښي څه برخه ایستل واجب ؤ، چه په مساکینو او فقراؤ صرفیدله وروسته په مدیني منوري کښي د هجرت په دوهم کال د هغه مقدار او د نورو تعیین او تفصیل وکړ شو، یعني د للمی ځمکي په حاصلاتو (په دي شرط چه خراجي نه وي) لسمه برخه، او د اوبو لرونکو ځمکو ځني شلمه برخه واجب ده.

وَمِنَ ٱلۡأَنۡعَٰمِ حَمُولَةٗ وَفَرۡشٗاۚ كُلُواْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ
وَلَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٞ ﴿١٤٢﴾

او (پیدا کړي مو دي) له چارپایانو بار وړونکي او غځیدونکي (په ځمکه)، خورئ تاسي له هغو ځني چه رزق کړي (درکړي دي) تاسي ته الله او مه کوئ متابعت (مه ځئ) تاسي په قدمو د شیطان، بیشکه دا (شیطان) تاسي ته دښمن دی ښکاري.

**تفسیر :** بار وړونکي لکه اوښ او نور، او په ځمکه غځیدونکي لکه کوچنوټي (واړه) ساکښان (ذي روح) میږي وزی (یا د فرش معنی دا ده چه د وړیو او وژغنو او ویښتانو څخه ئي فرشونه جوړیږي یا دپاره د حلالولو پر ځمکه څملول کیږي یا «حمولة» د انعامو کبار دي او فرش د دوی صغار دي. ځکه چه ځمکي ته د فرش په شان نژدي دي.) د الله تعالیٰ له دي راکړو نعمتونو

ځنې منتفع کېدل، بهره اخيستل په کار دي، د شيطان پر قدمونو تګ دا دی چه دغه شيان هرو مرو بې له شرعي حجته حرام وګرځول شي يا د شرک او بت پرستۍ وسيله ئې جوړه کړې له دې نه په بله د شيطان ښکاره دښمني څه وي چه له دې نعمتونو ځني ئې تاسې په دنيا کښې بې برخې ګرځولي يئ؟، او په آخرت کښې د هغو له امله (وجې) په سخت عذاب اخته کيږئ.

ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ ۚ مِنَ الضَّاْنِ اثْنَيْنِ وَمِنَ الْمَعْزِ اثْنَيْنِ ؕ
قُلْ ءٰٓالذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ اَمِ الْاُنْثَيَيْنِ اَمَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ
اَرْحَامُ الْاُنْثَيَيْنِ ؕ نَبِّئُوْنِيْ بِعِلْمٍ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿١٤٣﴾

(الله پيدا کړي دي حلال) اته جوړې (نر او ښځه) له ميږو (ګډو) ځني دوه (نر او ښځه) يعنې په هره نوع کښې يوه ښځه او بل نر په دې ډول (طريقه) دوه دوه جوړه شول چه ګرد (ټول) سره اته کيږي) او له وزو (بيزو) څخه دوه (نر او ښځه)، ووايه (اې محمده! دوی ته) چه آيا (الله) دواړه نران حرام کړي دي (د ميږو (ګډو) او وزو (بيزو) څخه) که دواړه ښځې (له دوی څخه)؟ يا (که حرام کړې يې دي) هغه بچي چه مشتمل وي په هغو باندې رحمونه د دغو دواړو ښځو؟ راوښيئ تاسې ماته سند (چه علم دی) که يئ تاسې صادقان (رښتيني په نسبت د تحريم د دې شيونو کښې الله ته).

**تفسير :** يعنې د کوم يوه شي حلال او حرام ګڼل يوازې د الله تعالیٰ په حکم سره کيدی شي، بيا په دوی کښې نر يا ښځه يا هغه بچي چه د مور په ګېډه کښې دي که تاسې د ګردو (ټولو) انسانانو يا د ځينو په حق کښې حرام وګرځوئ لکه چه په پخوانيو آيتونو کښې تير شو، آيا له تاسې سره د دې خبرې کوم سند شته؟ کله چه له تاسې سره د الله تعالیٰ کوم حکم او سند نشته، نو بيا تش په آراؤ او نفسي تمايلاتو سره د الله تعالیٰ په پيدا کړو شيانو کښې له خپله ځانه حلال او حرام تاکل (مقررول) له دې خبرې سره مرادف دي چه د الوهيت مقام د خپل ځان له پاره تعيين کړئ يا په الله تعالیٰ باندې عمداً او په قصد سره بهتان يا افتراء وواييئ دا دواړه صورتونه ډير مهلک او تباه کوونکي دي.

وَمِنَ الْاِبِلِ اثْنَيْنِ وَمِنَ الْبَقَرِ اثْنَيْنِ ؕ قُلْ ءٰٓالذَّكَرَيْنِ
حَرَّمَ اَمِ الْاُنْثَيَيْنِ اَمَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ اَرْحَامُ الْاُنْثَيَيْنِ ؕ

أَمْ كُنتُمْ شُهَدَآءَ إِذْ وَصَّىٰكُمُ ٱللَّهُ بِهَٰذَا ۚ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا لِّيُضِلَّ ٱلنَّاسَ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٤٤﴾

او (الله پیدا کړی دی) له اوښانو دوه (نر او ښځه) او له غوایانو دوه (نر او ښځه)، ووایه (ای محمده! دوی ته) چه آیا دواړه نران حرام کړی دی الله که دواړه ښځی یا هغه (بچی ئی حرام کړی) چه مشتمل دی پری رحمونه د دغو دواړو ښځو، آیا وئ تاسی حاضران (لیدونکی) کله چه وصیت (حکم) کاوه تاسی ته الله په دی شیانو، نو څوک دی ډیر ظالم (یعنی نشته لوی ظالم) له هغه چا چه تړی پر الله باندی دروغ دپاره د دی چه گمراه کړی خلق بی له علمه (تحقیقه) بیشکه الله نه کوی هدایت قوم ظالمانو ته (چه د جاهلیت په دین ولاړ وی).

**تفسیر** : د اشیاؤ تحلیل او تحریم یوازی د الله تعالیٰ په حکم سره کیدی شی او د الله تعالیٰ حکم د انبیاؤ علیهم السلام په وسیله رارسیږی یا حق تعالیٰ بلاواسطه څوک مخاطب گرځوی نو له دی نه معلومه شوه چه دلته دواړه صورتونه منفی دی د پخوانی شق انتفاء ته ئی په ﴿ نَبِّـُٔونِى بِعِلْمٍ ﴾ الآیة - سره او د دوهم شق نفی ته ئی په ﴿ أَمْ كُنتُمْ شُهَدَآءَ إِذْ وَصَّىٰكُمُ ﴾ الآیة - سره تنبیه وفرمایله، نو د مشرکانو په دغو دعواؤ کښی د افتراء او اضلال څخه ماسواء بل هیڅ شی پاتی نه شو، بلا شبهه له دی نه بل هیڅوک زیات ظالم نشی کیدی چه پر الله تعالیٰ باندی بهتان او افتراء تړی، او د علم او تحقیق له نشتوالی سره خلقو ته باطل او غلط مسائل بیانوی او گمراه کوی ئی نو هر څوک چه دا دومره بی حیایی او سپین سترگی خپل ځان ته غوره کړی او د داسی لوی ظلم کولو ته ملا وتړی نو د هغه په نسبت د هدایت موندلو توقع لرل بیخی چتی (بیکاره) او فضول کار دی.

قُل لَّآ أَجِدُ فِى مَآ أُوحِىَ إِلَىَّ مُحَرَّمًا عَلَىٰ طَاعِمٍ يَطْعَمُهُۥٓ إِلَّآ أَن يَكُونَ مَيْتَةً أَوْ دَمًا مَّسْفُوحًا أَوْ لَحْمَ خِنزِيرٍ فَإِنَّهُۥ رِجْسٌ أَوْ فِسْقًا أُهِلَّ لِغَيْرِ ٱللَّهِ بِهِۦ ۚ فَمَنِ ٱضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَإِنَّ رَبَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٤٥﴾

وواېه (اې محمده ! دوی ته) چه نه مومم زه په هغه شي کښې چه وحې کړی شوی ده ماته (تر اوسه پورې) (يو شي) حرام کړی شوی پر کوم خوړونکی چه خوری هغه مګر که وی دا شي مرداره يا وينه بهيدونکی يا غوښه د خنزير نو بيشکه دغه خنزير پليت دی يا ناجائزه ذبيحه وی چه غږ کړی شوی وی بې د نامه د الله په (وخت د ذبح د) هغې، بيا که څوک (له لوږې) بې اختياره شي په دغه حال چه نه وی ظالم (پر بل کوم مضطر باندی) او نه تيريدونکی (په خوراک کښې د ضرورت له قدره) نو بيشکه رب ستا لوی ښونکی (د خطياتو) نهايت مهربان دی (په انعام د اجر او ثواب سره).

---

**تفسير :** حضرت شاه صاحب فرمائی «يعنی له هغو ساکښانو (ذی روحو) څخه چه د غوښو خوراک يې رواج درلود (لرلو) هم دا حرام دی.» په دی آيت کښې کفارو ته دا خبره ښوولی کيږی، دغه شيان چه پاس ذکر شول ګرد (تول) حلال وو، خو تاسی هغه په خپل سر حرام وګرځول، اوس هغه شيان درښوول کيږی چه حقيقتاً حرام دی، او تاسی هغه حلال ګڼئ باقی د آيت مضمون تفسير او توضيح په (٢) جزء د البقرة په (١٧٣) آيت (٢١) رکوع او په «٦» جزء د «المائدی» د سورت په (٣) آيت (١) رکوع د ﴿ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ ﴾ الآية ـ په تفاسيرو کښې ليکلی شوی دی هلته دی وکتل شي.

---

وَعَلَى الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا كُلَّ ذِي ظُفُرٍ ۖ وَمِنَ الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ شُحُومَهُمَا إِلَّا مَا حَمَلَتْ ظُهُورُهُمَا أَوِ الْحَوَايَا أَوْ مَا اخْتَلَطَ بِعَظْمٍ ۚ ذَٰلِكَ جَزَيْنَاهُمْ بِبَغْيِهِمْ ۖ وَإِنَّا لَصَادِقُونَ ﴿١٤٦﴾

---

او پر هغو کسانو باندی چه يهودان دی حرام کړی ؤ مونږ هر نوکداره (جانداره) او له غوايانو او له ميږو (ګډو) حرام کړی ؤ مونږ پر دوی باندی وازدی د دی دواړو مګر هغه وازده چه بار کړی وه (لګيدلی وه په) شاګانو د دوی دواړو يا کلمو باندی به وه يا هغه وازده چه لګيدلی به وه له هډوکی سره: دا (تحريم د دی شيونو) جزا ورکړی وه مونږ دوی ته (په هغه سره) په سبب د ظلم (شرارت) د دوی او بيشکه مونږ خامخا رښتيا ويونکی يو (په دی ويلو خپلو کښې)

---

**تفسير:** يعنی اصلی حرمت خو په هم دغو شيانو کښې شته چه پاس ذکر شول، هوا د موقتی

مصالحو له امله (وجی) ځینی شیان په عارضی ډول (طریقه) سره پر ځینو اقوامو پخوا له دی نه حرام کړی شوی وو مثلاً پر یهودانو باندی د دوی د شرارتونو د سزا له امله (وجی) هر نوک لرونکی حیوان چه نوکان ئی له منځه نه وی جلا (جدا) شوی، لکه اوښ، شتر مرغ، مرغاوی او نور حرام کړی شوی وو، او هم د غوائی او وزی (بیزی) هغه وازده چه پر شا یا کلمو ئی لګیدلی نه وی یا له هډوکی سره متصله نه وی پر دوی باندی حرامه کړی شوی وه. لکه د پښتورګی وازده. د بنی اسرائیلو دغه دعوی غلطه ده چه دغه شیان د نوح او ابراهیم علیهما السلام له زمانی راهیسی په مستمر ډول (طریقه) سره پرله پسی حرام پاتی دی. رښتیا خبره دا ده چه له دغو شیانو څخنی هیڅ یو شی د ابراهیم علیه السلام په عهد کښی نه ؤ حرام. او د یهودانو د نافرمانی او شرارتونو له امله (وجی) دا ګرد (تول) شیان حرام شول نو هر هغه څوک چه د دی په خلاف دعوی کوی دروغ وائی لکه چه د (٤) جزء په شروع د آل عمران په (٩٣) آیت (١٠) رکوع کښی په: ﴿ قُلْ فَأْتُوا بِالتَّوْرَاةِ فَاتْلُوهَا إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴾ کښی دغو دعوی کوونکو ته دعوت ورکړی شوی دی چه د دی خبری اثبات راخرګند کړی!.

---

فَإِن كَذَّبُوكَ فَقُل رَّبُّكُمْ ذُو رَحْمَةٍ وَاسِعَةٍ وَلَا يُرَدُّ بَأْسُهُ عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِينَ ﴿١٤٧﴾

---

نو که نسبت د دروغو وکړ دوی تاته (په دغی وحی کښی) نو ووایه (ای محمده دوی ته) چه رب ستاسی خیښتن (مالک) د رحمت واسع (ډیر پراخ) دی (چه تلوار نه کوی په تعذیب ستاسی)، او نه ګرځاوه شی عذاب د الله له قومه ګنهګارانو (کافرانو نو مه مغروریږئ په دی امهال).

---

**تفسیر:** تاسی تر اوسه پوری د الٰهی رحمت د پراخی له کبله (وجی) نجات موندلی دی نو داسی مه ګنئ چه عذاب له تاسی څخنی لری شوی دی کذا فی «موضح القرآن».

---

سَيَقُولُ الَّذِينَ أَشْرَكُوا لَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا أَشْرَكْنَا وَلَا آبَاؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِن شَيْءٍ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ حَتَّىٰ ذَاقُوا بَأْسَنَا قُلْ هَلْ عِندَكُم مِّنْ عِلْمٍ فَتُخْرِجُوهُ لَنَا إِن تَتَّبِعُونَ

إِلَّا الظَّنَّ وَإِنْ أَنتُمْ إِلَّا تَخْرُصُونَ ﴿١٤٨﴾ قُلْ فَلِلَّهِ الْحُجَّةُ الْبَالِغَةُ فَلَوْ شَاءَ لَهَدَاكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿١٤٩﴾

ژر به ووائی هغه کسان چه شرک یی کړی دی که اراده فرمائلی وی الله (په طریقه د رضا سره د دوی د شرک په عدم) نو شرک به نه ؤ غوره کړی مونږ او نه پلرونو زمونږ او نه به حرام کړی ؤ مونږ هیڅ شی، لکه هم دغه (مکذبان) نسبت د دروغو کړی ؤ هغو کسانو چه پخوا له دوی څخنی وو تر هغه پوری چه وځاکه دوی عذاب زمونږ، ووایه (ای محمده! دوی ته) آیا شته تاسی سره څه علمي سند چه راوباسئ تاسی هغه مونږ ته، پیروی نه کوئ تاسی (د هیڅ شی)! مګر د تش ګمان (اتکل خپل، نه له علمه) او نه یئ تاسی مګر خو دروغ وایئ (په الله) ووایه (ای محمده! دوی ته که نه وی تاسی سره څه دلیل) نو الله لره دی دلیل کامل (دپاره د الزام ستاسی) نو که اراده فرمایلی وی (الله د هدایت ستاسی نو) خامخا هدایت به ئی فرمایلی ؤ تاسی تولو ته.

**تفسیر :** په تیره رکوع کښی له مشرکانو څخنی مطالبه کړی شوی وه چه هغه حلال او طیب شیان چه تاسی حرام ګرځولی دی او دغه د تحریم نسبت الله تعالیٰ ته کوئ د هغه سند او دلیل راوړئ دلته هغه دلیل بیان کړی شوی چه دوی یی وړاندی کوونکی وو. یعنی که الله تعالیٰ اراده کړی وی، نو هغه پاک ذات قدرت درلود (لرلو) چه مونږ او زمونږ اسلاف یی نه یوازی له دغه تحریم بلکه له نورو مشرکانه افعالو او اقوالو څخنی هم ژغورلی (ساتلی) وی کله چه ئی نه یو ژغورلی (ساتلی) او مونږ همغسی پری پاتی او دوام لرو نو ثابته شوه چه د هغه په دربار کښی زمونږ دا ګردی (تولی) چاری مقبولی او ښایسته دی. او که زمونږ دغه کارونه (چه له قدیمه راهیسی ئی کوو) د ده په نزد خراب او نامناسب وی نو مونږ یی ولی داسی خوشی او آزاد او په خپل سر پریښی یو؟.
دغه خبره د پوهیدلو وړ (قابل) ده چه یو نیکنام او مدبر حکومت هغه څوک چه په تحریک او بغاوت کښی شریک وی د یقینی اطلاع او کافی قدرت سره یی هم په همغه اوله ورځ نه نیسی او د سیاست په دار ئی نه ځړوی او د ده د حرکاتو کتنه او نګرانی کوی او کله کله ورته د خپلی رویی د اصلاح کولو په نسبت هدایت هم ورکوی او موقع ورکوی چه د خپلو حرکاتو نتیجو ته فکر وکړی او ښه ئی وسنجوی (غور وکړی) او خپل ځان پخپله بیرته سم کړی او کله چه د ده له اصلاح څخنی مأیوس شی، نو یی خوشی کوی او پریږدی ئی تر څو خپل مطلبونه عملی کړی، او د بغاوت مکمل اسناد دلایل او مواد یی پیدا شی، چه د هغو په اساس او استناد د ده د جرم

او غداری انتهائی نتیجه د اصول او قانون له مخی علیٰ رؤس الاشهاد ثابت شی، په دغو گردو (تولو) صورتونو کښی د مجرم د ملونو (زمام) له خوشی پریښودلو او سم د لاسه د سزا له نه ورکولو ځنی آیا دا ثابتیږی چه د حکومت په نظر کښی د هغه اعمال او اجراآت جرم او بغاوت نه دی؟.

لومړی له هغه قانون څخه چه پخپله حکومت خپور (خور) کړی دی معلومیږی چه دغه افعال د حکومت په نظر کښی گناه وه. دوهم کله چه دغه مجرم د مهلت له تیریدلو څخه وروسته د عدالت محکمی ته وړاندی شی او له قانونی اثبات او په گناه باندی له اقرار کولو څخه وروسته په اعدام یا په دایمی حبس باندی محکوم شی نو په دغه وخت کښی به د سر په سترگو ولیدل شی چه د حکومت په نظر کښی د ده جرم په کومه اندازه و؟!

په هر حال د حکومت سم د لاسه سزا نه ورکول سره له دی چه پر جرم باندی پوره یقین هم لری او د کافی زور او قوت خاوند هم دی د دی خبری دلیل نشی کیدی چه هغه جرم له سره جرم نه گانه کیږی، په هم دی قیاس کړئ چه هغه احکم الحاکمین جل جلاله د دنیا د پیدائښت له اوله تر نن پوری د خپلو صادقو او پاکو نائبانو او رسولانو علیهم السلام په واسطه له هر قسم قوانینو او احکامو ځنی خپلو بندگانو ته اطلاع ورکوی او په ښکاره او صاف ډول (طریقه) دوی ته دا ورښیی چه کوم اعمال د ده په دربار کښی غوره او کوم ئی ناغوره دی؟ کله پرله پسی او کله له لږو وقفو څخه وروسته د دغو احکامو او هدایاتو یادونه او تذکر هم کیږی، په دی منځ کښی تر هغی اندازی پوری چه له مخالفت کوونکو سره مسامحت وړ (لایق) و ورسره مسامحت وشو او سترگی وربانْدی پټی شوی، کله چه د معمولی تنبیهاتو ضرورت پیښ شوی دی نو کړی په گړی هغه هم ورکړی شوی دی او هغو کسانو ته یی لږ څه مهلت او ډیل هم ورکړی دی چه د دوی د شقاوت او بدبختی جامونه تر څنډو (غاړو) ډک شوی ؤ او په صاف او ښکاره ډول (طریقه) سره د خپل الله جل جلاله د انتهائی سزا مستحق گرځیدلی او په خپله سزا او هیداد باندی د رسیدلو وړ (مستحق) او لائق گڼلی شوی وو. لکه چه ډیرو قومونو د خپلو جرائمو د لږ څه هیداد او سزا خوند په هم دی دنیا کښی څکلی دی، نو بیا د دغسی حالاتو له موجودیت سره د څو ورځو له مخی د کوم قوم په کومو جرائمو کښی د سزا له نه مبتلا کیدلو او سم د لاسه د دوی په عذاب له نه آخته کیدلو څخه څرنگه دغسی استدلال کیدی شی چه گواکی (معاذ الله) هغه جرائم د الله تعالیٰ په نزد غوره دی. که نه الله تعالیٰ به د یوی گړی له مخی هم ورته مهلت نه ورکاوه.

پاتی شوه دغه خبره چه پاک الله انسان د پیدائښت له ابتداء څخه ولی داسی نه دی پیدا کړی چه دی طبعاً د ناکارو کارونو په لوری قطعاً نه ورتلی او په دی ډول (طریقه) سره دی فطرتاً مجبور کیده چه د نیکی او ښیگڼی څخه ئی ماسواء بل هیڅ شی نه شوی غوره کولی؟ که په غور او دقت سره وکتل شی نو د دی سوال مطلب دا دی چه: انسان ولی په داسی یوه صورت سره نه دی پیدا کړی شوی چه انسان نه وی؟ یا خو د ځښتی او تیږی (گټی) په شان جوړ شوی وی چه له ادراک او شعور او کسب او اختیار څخه بیخی تش او عاری وی یا د سپیو، خرو، آسونو او

نورو ساکښانو (ذی روحو) په شان لږ څه جزوی احساس او شعور لرونکی حیوان وی چه له ازله تر ابده پوری د خپلو مخصوصو او متشابه ؤ افعالو او احوالو په محدودو دایرو کښی چورلیدی، یا ئی ورته ډیر زیات عزت او کرامت ور په برخه کړی وی او د ملائکو په ډله کښی ئی شامل کړی وی چه هغو یوازی د طاعت او عبادت په غوره کولو کښی مجبول او مطفور دی. الحاصل دغه د کلی ادراکاتو او عظیم الشان کسبی تصرفاتو لرونکی ترقی او په مخ تلونکی نوع له سره د شتوالی په ډګر کښی نه دروله کیده.

زه پوهیږم چه هیڅ یو انسان به چه په لوړ غږ سره د خپل شرافت او کرامت دعوی کوی داسی جرائت ونه کړی چه بیخی د خپلی نوعی له وجود څخنی مخالفت وکړی، بیا که د انسانی نوعی پیدا کول له دغو عقلی او عملی قوتونو او د کسب او اختیار له آزادی سره د عالم د نظام د تکمیل له پاره ضروری وی، نو د دی تکوینی نظام د آثارو او نتائجو قبلول هم ضروری دی دا څرنګه کیدی شی چه د ژوندانه په مادی او معاشی شعبو کښی انسانو ته د عقلی او کسبی روحانیت په میدانونو کښی د همغه زړه، دماغ، کسب او اختیاری قوت لرونکی انسانان ګرد (تول) سره د یوی سمی او صافی لاری په تللو مجبور شی او هیڅ یو له دوی څخنی داسی قدرت او حق ونه لری چه یو قدم دی خوا او هغی خوا وړاندی یا وروسته کیږدی

که د عالم په مجموعه کښی د انسانی نوعی موندل په خپل موجوده حقیقت سره ضرور دی نو د نیکو او بدو له اختلافه هم لا بدی ده او د هم دغه اختلاف وجود د هم دی خبری لوی دلیل دی هر هغه فعل چه واقع کیږی ضروری نه دی چه د الله تعالیٰ په نزد دی غوره هم وی که نه د مختلفو او متضادو افعالو په موجودیت کښی به د دی خبری تسلیم ضروری وی چه مثلاً خوش اخلاقی هم د الله تعالیٰ خوښه ده او بد اخلاقی هم، ایمان راوړل ئی هم خوښ دی او بی ایمانی هم، چه دا صراحتاً باطل دی. بیشکه که د الله تعالیٰ اراده وی نو د انسان خلقت به ئی داسی کاوه چه ګرد (تول) به سره د نوی لاری پر تللو مجبور وو لیکن کله چه داسی نه ده واقع شوی نو هم دغه بالغه حجت او پوره الزام پر هغو کسانو دی چه ﴿ لَوْشَآءَ اللّٰهُ مَآ اَشْرَكْنَا ﴾ الآیة - په ویلو سره په الهٰی مشیت او رضاء کښی د تلازم اثبات کوی. څکه چه د دومره شدیدو اختلافاتو له موجودیت سره د دوی له اصوله سره موافق د دی خبری منل لازمیږی چه مثلاً خالص توحید هم د الله تعالیٰ په نزد صحیح او مرضی دی او د هغه نقیض جلی شرک هم، وقس علیٰ هذا له دغو دلائلو څخنی ثابته شوه چه د مشرکانو دغه استدلال چه ﴿ لَوْشَآءَ اللّٰهُ مَآ اَشْرَكْنَا ﴾ الآیة - خوشی لغو او چتی (بیکاره) او فضول دی او هیڅ یو داسی برهان او علمی اصول له هغوی سره نشته چه هغه د عاقلانو په مخ کښی وړاندی کړی شی او یواځی اتکلی غشی او تخمینی خبری دی چه د الله تعالیٰ بالغه حجت پری تردیدوی چه د هغه په لوری په ﴿ فَلَوْشَآءَ لَهَدٰىكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴾ کښی اشاره فرمایلی ده، یعنی انسانی فطرت داسی نه دی پیدا کړی شوی چه ګرد (تول) سره سم د هدایت پر لاره برابر لاړ شی، دوی ته پاک الله د کسب او اختیار هغه آزادی ور په برخه فرمایلی ده چه د هغی اعطاء بل هیڅ یوه مخلوق ته ممکنه نه وه، نو څکه لازم دی

چه د دی آزادی د استعمال په وخت کښې لاری مختلفې وی، څوک په نیکۍ پسی مندی ووهی او څوک د بدی په لوری وځغلی، یو د الله تعالیٰ د رضاء او خوښی مظهر وګرځی او بل د ده د قهر او غضب مورد شی، په دی ډول (طریقه) سره هغه آخری مقصد چه د کائناتو خالق د دی عالم د پیدا کولو څخه اراده فرمایلی ده یعنی د خپل جمالی، او جلالی صفاتو اظهار علی الوجه الاتم سره، پوره شو ﴿ لِيَبۡلُوَكُمۡ أَيُّكُمۡ أَحۡسَنُ عَمَلٗا ﴾ که نه چه ګرد (تول) عالم پر یوه حال فرض کړ شی نو د ځینو الهٰی، صفاتو اظهار به ممکن کیده او د ځینو نورو د ظهور له پاره به هیڅ یو ځای او محل نه پاتی کیده تر دی ځایه پوری هر څه چه مونږ ولیکل هغه پر دغه تقدیر وو چه د مشرکانو ﴿ لَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَآ أَشۡرَكۡنَا ﴾ له قوله څخه دا غرض ؤ چه دوی د خپلو کفریاتو او خرافاتو د استحسان اثبات پسی لویدلی وو، لکه چه د دوی له احوالو څخه ظاهر دی، که د دی کلام څخنی د دوی مقصد یواځی معذرت وی یعنی چه الله تعالیٰ د هر شی اراده فرمائی همغسی پر مونږ باندی کوی، ښه وی که خراب په هر حال د ده په مشیت سره دی نو بیا ولی انبیاء او رسولان زمونږ سره د الله تعالیٰ د مشیت په مقابل کښې مزاحمت کوی؟ او ولی مو د الله تعالیٰ له عذابونو څخه ویروی؟ نو د هغه ځواب دا دی چه: د هغه پاک الله په اراده سره چه تاسی د دی شنیعو افعالو مرتکب او مکتسب کیږئ نو د هغه په مشیت سره انبیاء او رسل علیهم السلام هم ستاسی مزاحمت کوی، او همغه مشیت دی چه ستاسی له مکتسباتو سره مناسب عذاب درلیږی، څرنګه چه الله جل جلاله پخپل قدرت سره مار پیدا کړی دی، همغسی ئی د مار چیچلی په حق کښې د ربړیدلو یا مړ کیدلو اثر هم مرتب کړی دی که د مار په چیچلو کښې د مار خوړلی فعل او اختیار څه مداخله کړی وی او که ئی نه وی کړی، هم داسی ستاسی په شرک او کفر کښې دائمی هلاکت، او په ایمان او صالح عمل کښې د ابدی سعادت تاثیر آچول هم د همغه الله جل جلاله د قدرت او مشیت کار دی چه له هغه څخنی د ګردو (تولو) اسبابو او مسبباتو د سلسلی تخلیق شوی دی که چیری تاسی د خپلو مشرکانه ؤ اطوارو سره احتجاج کولی شئ! نو د رسولانو ارسال او د عذاب انزال او نور څخنی په بیرته ګرځیدلو کښې د الله تعالیٰ د مشیت په عمومیت ګرد (تول) امر هم د هغه مشیت د کار فرمایلو نتیجه وګڼئ!، او د الله تعالیٰ بالغه حجت تمام وبولئ! بیشکه که د الله تعالیٰ اراده وی نو تاسی ګرد به ئی د هدایت په سمه لاره برابر کړی وی لیکن الله تعالیٰ ستاسی د سوء استعداد لامله (له وجی) داسی اراده ونه فرمایله، آخر ستاسی له بده اختیاره هغه افعال چه صادر شوی دی د هغه طبیعی اثر د عذاب په صورت هرومرو (خامخا) مرتب کیدونکی دی (العیاذ بالله)

---

قُلۡ هَلُمَّ شُهَدَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ يَشۡهَدُونَ أَنَّ ٱللَّهَ حَرَّمَ هَٰذَاۖ فَإِن شَهِدُواْ فَلَا تَشۡهَدۡ مَعَهُمۡۚ وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱلَّذِينَ

لَا يُؤْمِنُونَ بِالْاٰخِرَةِ وَهُمْ بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُوْنَ ۝١٥٠ ع

وو وایه (ای محمده ! دوی ته) راولیۍ شاهدان خپل هغوی چه شاهدی ورکوی دوی (په دی) چه بیشکه الله حرام کړی دی دا شیونه، نو که شاهدی ورکړه دوی نو ته شاهدی مه وایه له دوی سره (مه ئی قبلوه اعتبار پری مه کوه!) او مه کوه متابعت د آرزوګانو (خواهشونو) د هغو کسانو چه نسبت د دروغو کوی آیتونو (احکامو) زمونږ ته او د هغو کسانو چه نه راوړی ایمان (نه کوی یقین) په آخرت باندی حال دا چه دوی له ربه خپله سره برابروی (نور شیان په عبادت کښی)

**تفسیر:** یعنی عقلی دلیل خو پاس معلوم شو اوس که پر دغه له خپله ځانه جوړ کړی تحریم باندی تاسی کوم نقلی دلیل لرئ نو هغه راوړئ!، آیا له تاسی سره داسی شاهدان موجود دی؟، چه داسی بیان وکړی، چه هوا د دوی په مخ کښی پاک الله دغه شیان حرام کړی وو، ظاهره ده چه داسی واقعی شاهد چیری پیدا کیدی شی؟ او که دوه ، څلور داسی ګستاخ، سپین سترګی او بی حیاء کسان د داسی شاهدی ورکولو دپاره چمتو (تیار) هم شی نو د داسی کسانو شاهدی ته له سره غوږ مه ږدئ!، او مه د دوی د خواهشونو څه پروا کوئ. تر دی ځایه پوری د هغو شیانو بیان ؤ چه مشرکانو پخپله رأیه او هوا او هوس حرام کړی وو بیا د هغو له پاره ئی له خپله ځانه حیلی، پلمی (بهانی) او باطله عذرونه وړاندی کول، وروسته له دی نه هغه شیان بیانیږی چه د پاک الله له خوا حرام شوی دی او له پخوا راهیسی یی تل حرام ګڼلی او حرام پاتی دی لیکن دغه مشرکان پکښی مبتلا دی.

قُلْ تَعَالَوْا اَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ اَلَّا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا وَّ بِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا ۚ وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَوْلَادَكُمْ مِّنْ اِمْلَاقٍ ۭ نَحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَاِيَّاهُمْ ۚ

وو وایه (ای محمده ! دوی ته) چه راشئ! چه زه ولولم (در واوروم) هغه چه حرام کړی دی رب ستاسی پر تاسی باندی چه شریکان مه نیسئ تاسی له دغه (الله) سره هیڅ شی، او (نیکی کوئ تاسی) له مور او پلار سره په نیکی کولو سره او مه وژنئ تاسی اولاد خپل له (ویری د فقر او) خواری نه، مونږ رزق (روزی) درکوو تاسی ته او هم دی ته،

**تفسیر:** عربیانو به د مفلسی لامله (له وجی) ځینی وختونه خپل اولادونه وژل او ویل به ئی چه

مونږ پخپله خواړه نه مومو نو خپلو اولادونو ته له کومه خوراک ور برابر کړو او وربانددی وئی خوروو؟. نو ځکه فرمائی رزق ورکونکی خو پاک الله دی چه تاسی او هم ستاسی اولادی او هم نورو مخلوقاتو ته ئی ورکوی، په بل ځای کښې د «املاق» په ځای «خشية املاق» فرمایلی دی یعنی د مفلسی له ویری به ئی هغوی وژل، دا به د هغو کسانو ذکر وی چه اوس مفلسان نه دی مګر ویریږی کله چه مو آل او عیال زیات شی نو دوی ته به مونږ خوراک له کومه پیدا کوو؟. څرنګه چه پخوانی طبقی ته پخوا له عیاله د خپل ځان د دوډی فکر او سخته اندیښنه پیدا شوی وه او دوهمه طبقه د عیال ډیروالی پریشانه کړی وه، ښائی له هم دی کبله (وحی) ئی دلته له «من املاق» سره ﴿نَرۡزُقُكُمۡ وَإِيَّاهُمۡ﴾ او په هغه آیت کښې ئی له «خشية املاق» سره (نرزقهم وایاکم) ارشاد فرمایلی وی والله اعلم.

**تنبیه :** په قرآن کریم کښې دری ځایه په توحید پسی د والدینو احسان متصل راغلی دی له دی جهته لکه چه پروردګار حقیقتاً د مولود خالق او موجد دی، هم داسی مجازاً مور او پلار هم د ولد حامی، مربی او روزونکی دی. نو ځکه د خالق جل وعلیٰ شانه د توحید او عبادت څخه وروسته په مخلوقاتو کښې له ګردو (تولو) نه پخوا او زیات د مور او پلار حقوق او خدمت دی.

حضرت وائی که جنت د چا په کار وی - د مؤمنو تر پښو د مور او پلار وی
ځان دی خاوری کړی د دوی تر قدمونو - که د چا د جنت عیش ګلزار په کار وی

وَلَا تَقۡرَبُواْ ٱلۡفَوَٰحِشَ مَا ظَهَرَ مِنۡهَا وَمَا بَطَنَۖ

او مه نژدی کیږئ، فواحشو (بی حیائی، ناکارو کارونو) ته هغه چه ښکاره وی له دی (فواحشو) او هغه چه پټ وی،

**تفسیر:** له «مه نژدی کیږئ» څخه ښائی دا مراد وی چه د داسی کارونو له مبادیو او وسائلو څنی هم ځان ژغورل (بچ کول) په کار دی. مثلاً همغسی چه له زنا څخه مو ځانونه ژغورئ (بچ کوئ) ، له بدو کتلو، بد لیدلو بد ویلو، بد کولو څنی هم اجتناب او پرهیز په کار دی.

وَلَا تَقۡتُلُواْ ٱلنَّفۡسَ ٱلَّتِي حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلۡحَقِّۚ

او مه وژنئ تاسی نفس هغه نفس چه حرام کړی دی الله (وژل ئی) مګر (وژنئ ئی) په حقه سره

**تفسیر :** د «الا بالحق» استثناء ضروری وه ځکه چه د «قاتل العمد» او «زانی المحصن» او «مرتد عن الاسلام» وژل پکښې داخل دی لکه چه په صحیحو احادیثو کښې د هغو تصریح وارده

شوی ده، او مجتهدینو، ائمه ؤ هم پری اجماع فرمایلی ده.

ذٰلِكُمْ وَصّٰكُمْ بِهٖ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۵﴾

دا (خلور نهی او یو امر) حکم کړی دی الله تعالیٰ تاسی ته په دی سره له پاره د دی چه عقل وچلوئ (پکښی) تاسی.

**تفسیر**: له دی آیت څخه د دی ګردو (تولو) شیانو حرمت ثابت شو: (۱) شرک بالله (۲) له مور او پلار سره بدسلوکی (۳) قتل الاولاد. (٤) د بی حیایی ګرد (تول) کارونه مثلاً زنا او نور (٥) د بل چا په ناحقه وژل.

وَلَا تَقْرَبُوْا مَالَ الْيَتِيْمِ اِلَّا بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ حَتّٰى يَبْلُغَ اَشُدَّهٗ ۚ

او مه نژدی کیږئ تاسی مال د یتیم (پلار مری) ته مګر (ورنژدی شئ) په هغی طریقی سره چه هغه ډیره ښه وی تر هغه پوری چه ورسیږی دغه یتیم قوت (ځلمیتوب) خپل ته.

**تفسیر**: د یتیم (پلار مری) په مال کښی بی ځایه تصرف حرام دی، هو! په بهتری او مشروعی طریقی او احتیاط سره د یتیم په مال کښی د ده «ولی» او «وصی» تصرف کولی شی هر کله چه یتیم ځلمی او قوی شو او د خپلو کارونو د سنبالولو اهل وګرځید، نو مال دی ور وسپارل شی.

وَاَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيْزَانَ بِالْقِسْطِ ۚ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا ۚ

او پوره کوئ تاسی پیمانه او تول په عدل (انصاف) سره، نه ورکوو مونږ تکلیف هیڅ نفس ته مګر په اندازه د توان (طاقت) د هغه

**تفسیر**: یعنی د خپل طاقت سره سم د دغو احکامو په ځای راوړلو کښی کوښښ وکړئ او په هم دغو تاسی مکلف یئ، الله تعالیٰ هیچا ته د ده له مقدوره زیات تکلیف نه ورکوی.

وَاِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُوْا وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبٰى ۚ

او کله چه خبری کوئ تاسی (په کوم شی کښی) نو حق (رښتیا) ووایئ اګر که وی (مقول له یا مقول علیه) خاوند د خپولی (هم)،

**تفسیر:** یعنی ښائی د هیڅا قرابت او محبت د انصاف او حق ویلو مانع ونه ګرځی.

وَبِعَهۡدِ ٱللَّهِ أَوۡفُواْۚ

او په عهد د الله وفا کوئ تاسی،

**تفسیر :** ښائی د الله تعالیٰ په اوامرو او نواهیو باندی په کلکی عقیدی سره عمل وکړئ! که د الله تعالیٰ په نامه نذر پر ځان ومنئ! یا قسم وخورئ!، ښائی چه هغه پر ځای کړئ! ولی په دی شرط سره چه په کومی نامشروعی خبری نه وی.

ذَٰلِكُمۡ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ﴿١٥٢﴾ وَأَنَّ هَٰذَا صِرَٰطِي مُسۡتَقِيمٗا فَٱتَّبِعُوهُۖ وَلَا تَتَّبِعُواْ ٱلسُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمۡ عَن سَبِيلِهِۦۚ

دا (دری امرونه یوه نهی) حکم کړی دی (الله) تاسی ته په هغه سره له پاره د دی چه پند واخلئ تاسی! او (حکم کړی دی الله چه) په تحقیق دغه (د دی سورت ذکر شوی احکام) لاره زما ده برابره (جنت ته) نو متابعت وکړئ تاسی د دغی (لاری)، او مه کوئ متابعت د (نورو کږو) لارو نو تار په تار به کړی (دغه متابعت) تاسی له لاری (سمی) د الله نه (چه د وحی او اتباع او د برهان اقتفاء ده)،

**تفسیر:** یعنی د پورتنیو مذکوره احکامو تعمیل او د الله تعالیٰ د عهد عملاً او اعتقاداً پوره کول، هم دغه سمه لاره (صراط المستقیم) ده، چه د هغی د طلب تلقین د (الفاتحه) په سورت کښی په «اهدنا الصراط المستقیم» سره شوی دی، دغه لاره تاسی ته درښوولی شوی ده، اوس پر هغی سم برابر تلل ستاسی کار دی، هر څوک چه پرته (علاوه) له دی لاری تګ وکړی نو د الله تعالیٰ له لاری څنی بی لاری او ګمراه کیږی.
**تنبیه:** له عبد الله بن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما څخه روایت دی چه دغه دری مذکوره آیتونه چه په لسو احکامو مشتمل دی له محکماتو څنی دی چه په هیڅ شریعت کښی ئی نسخ نه ده راغلی.

ذٰلِكُمْ وَصّٰكُمْ بِهٖ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿١٥٣﴾ ثُمَّ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ تَمَامًا عَلَى الَّذِيْٓ
اَحْسَنَ وَتَفْصِيْلًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَّهُدًى وَّرَحْمَةً لَّعَلَّهُمْ بِلِقَآءِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُوْنَ ﴿١٥٤﴾

دا (اتباع د سمی لاری) حکم کړی دی (الله) تاسی ته په دی سره له پاره د دی چه ځان وساتئ تاسی (له ګمراهی نه). پس (له دی نه دا واورئ چه) ورکړی ؤ مونږ موسیٰ ته کتاب (تورات) دپاره د تمام (پوره کولو د نعمت) پر هغه چا باندی. چه نیکی کوی او (دپاره د بیان او) تفصیل د هر (دینی) شی او (دپاره د) هدایت او رحمت دپاره د دی چه دوی په ملاقات د رب خپل ایمان راوړی.

**تفسیر:** معلومیږی هغه احکام چه پاس له ﴿قُلْ تَعَالَوْا اَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ﴾ ځخه تر دی ځایه پوری مونږ ته آورولی شوی دی، دغه همیشه جاری او ګرد (تول) انبیاء علیهم السلام او شرائع پری متفق وو، وروسته الله تعالیٰ پر موسٰی علیه السلام تورات نازل کړ چه شرعی احکام پکښی په زیات تفصیل سره مندرج وو د تورات له اعطاء ځخه وروسته د هغی زمانی پر نیکی کوونکو باندی الله تعالیٰ خپل نعمتونه پوره او کامل کړل، د هر یوه ضروری شی احکام ئی په شرح او بسط سره بیان وفرمایل او د هدایت او رحمت ورونه ئی مفتوح کړل تر ځو خلق پری په ښه شان سره وپوهیږی او پری عمل وکړی او له خپل الله تعالیٰ سره د ملاقات پوره یقین حاصل کړی.

وَهٰذَا كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَكٌ فَاتَّبِعُوْهُ وَاتَّقُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿١٥٥﴾

او دا (قرآن یو) کتاب دی چه نازل کړی دی مونږ هغه مبارک (برکتناک دیر ګتور) دی نو متابعت وکړئ تاسی د دغه (قرآن) او ووېریږئ (له عذابه او ځان وساتئ له مخالفته ئی) له پاره د دی چه په تاسی رحمت وکړ شی.

**تفسیر:** یعنی تورات خو همغسی محترم کتاب ؤ چه ؤ، لیکن دا عظیم الشان قرآن خو داسی یو مقدس او لوی کتاب دی چه پخپل روښان هدایت او ظاهری او باطنی حسن او جمال او کمال سره ستاسی په مخ کښی ځلیږی د ده د محاسنو او فضائلو او کمالاتو په نسبت څه ولیکل شی.

د لمر دليل پخپله لمر دی د پاک قرآن د ظاهری او باطنی برکاتو او صوری او معنوی کمالاتو په نسبت بی اختیاره د هر چا له خولی څخه داسی د تعریف او ستاینی الفاظ راوځی:
(ډیری ښیګڼی (فایدی) لری، محمدی پاک قرآن ، د زړو سرور، د سترګو نور، معنی صورت ئی روښان)
اوس ښی او کینڼ ته د کتلو هیڅ ضرورت نه دی پاتی، که څوک غواړی چه د الله تعالیٰ، له رحمت څخنی زیاته حصه او پوره برخه واخلی نو پر دغه آخری او مکمل کتاب باندی دی عمل وکړی! او له پاک الله څخنی دی وویریږی! او زیار (کوشش) دی وکاږی! چه د دی کتاب د هیڅ یوی برخی څخه مخالفت ونه کړی.

---

أَن تَقُولُوٓاْ إِنَّمَآ أُنزِلَ ٱلۡكِتَٰبُ عَلَىٰ طَآئِفَتَيۡنِ مِن قَبۡلِنَا وَإِن كُنَّا عَن دِرَاسَتِهِمۡ لَغَٰفِلِينَ ﴿١٥٦﴾

---

(او نازل کړی ؤ مونږ دا کتاب لپاره د دی) چه و (نه) وایئ (ای عربو په قیامت کښی) بیشکه خبره دا ده چه نازل کړی شوی ؤ کتاب پر دوو طائفو (یهودو او نصاریٰ ؤ) پخوا له مونږه او بیشکه شان دا دی چه وو مونږ له لوستلو او لولولو د دوی څخه غافلان (ناپوهان چه زمونږ په ژبی نه ؤ).

---

**تفسیر :** یعنی د دی مبارک کتاب لوی قرآن له نزوله وروسته د عربو امیانو ته د داسی وینا موقع نه ده پاتی شوی چه هغه پخوانی آسمانی کتابونه چه د الله تعالیٰ پر شرائعو مشتمل دی او پخوا له دی نه نازل شوی دی زمونږ له علم او پوهی سره سم په هغو دواړو فرقو یهودانو، نصرانیانو باندی نازل شوی دی چه هغه خلق ئی پخپلو منځونو کښی سره لولی او لولوی ئی او ځینو د هغو ترجمه په عربی سره هم کوله. مثلاً ورقه بن نوفل او نور له ډیری مودی راهیسی په دغه شوق، رغبت، فکر او اندیښنه کښی مشغول او لګیا وو چه عرب یهود کړی یا ئی نصرانی وګرځوی. مګر مونږ د دوی له هغو تعلیماتو، تدریساتو ښوونو او ویناؤ سره هیڅ علاقه او ارتباط نه درلود (لرلو)، بحث په دی کښی نه دی چه کوم شی چه یهودان او نصرانیان لولی او لولوی ئی تر کومی اندازی پوری پخپل اصلی سماوی صورت محفوظ پاتی دی بلکه یواځی مقصود هم دغومره دی چه د دی شرائعو او کتابونو اصلی مخاطبان فقط بنی اسرائیل ؤ اګر که د هغو د تعلیم ځینی اجزاء لکه د توحید او دینی اصولو دعوت د خپلی پراختیا او تعمیم په اثر له بنی اسرائیلو څخه ماسواء د نورو اقوامو په حق کښی هم عام شوی وی او سره له دی کوم شریعت او سماوی کتاب چه په مجموعی هیئت سره پر کوم خاص قوم د هغوی د مخصوصو فوائدو لپاره نازل شوی وی، که د هغه له درس او تدریس سره نور اقوام خصوصاً عربو غونډی یو غیور او

ځان باندې ځانمننې قوم څه علاقه او اړه (مجبوري) ونه لرې څه مستبعد نه دی، نو ځکه دوی ويلې شوی چه کوم آسمانی کتاب او شريعت زمونږ په لورې نه دی راغلی، او مونږ له هغو شرائعو سره چه د بل کوم مخصوص قوم له پاره ليږلي شوی دی. دومره علاقه نه لرو نو بيا به مونږ د شرائعو پر ترک ولې ماخوذ کيږو! مګر نن دوی ته د داسې حيلو او پلمو (تدبيرونو) کولو موقع نه ده پاتې، د الله تعالیٰ حجت د ده د روښان کتاب د عمومي هدايت او رحمت باران مخصوصاً د دوی پر کورونو نازل کړی شوی دی، تر څو دوی پخپله هم ترې ړومبی مستفيد شي او بيا دا د الله تعالیٰ امانت او رحمت تمام سور تور زير سپين نسلونو او تکمو او د مشرق، لمرخاته، مغرب، لمر پريواته، شمال، ښې، او جنوب، سهيل ګردو (ټولو) هستيدونکو ته په ډير احتياط او حفاظت سره ورسوی، ځکه چه دغه کتاب د کوم خاص قوم او ملک له پاره نه دی ليږلی شوی، او د ده مخاطب ګرد (ټول) جهان دی لکه چه د الله تعالیٰ په فضل او توفيق د عربو په وسيله د ملک العلام دغه آخری او عام پيغام د دنيا ټولو ځايونو ته تبليغ او اعلام شوی دی، والحمد لله علیٰ ذلک.

أَوْ تَقُولُوا لَوْ أَنَّا أُنزِلَ عَلَيْنَا الْكِتَابُ لَكُنَّا أَهْدَىٰ مِنْهُمْ ۚ فَقَدْ جَاءَكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ ۚ

يا چه و (نه) وايئ (ای عربو په قيامت کښې) که وی مونږ چه نازل کړی شوی وی پر مونږ باندې کتاب (لکه چه په دوی نازل شوی دی) نو هرومرو (خامخا) وو به مونږ ښه لاره موندونکی له دوی نه نو په تحقيق راغلی دی تاسی ته حجت ښکاره (عربي قرآن) له رب ستاسی او هدايت او رحمت (له جانبه د الله ای مؤمنانو پس متابعت کوئ د ده)

**تفسير:** يعنې د پخوانيو امتونو د احوالو له اوريدلو څخه ښائي ستاسی په زړونو کښې داسې يو هوس، ارمان، شوق، ذوق او ولوله پيدا شوی وی که پر مونږ باندې د الله تعالیٰ کتاب نازل شوی وی، نو مونږ به له نورو ځنی زيات عمل پرې کاوه او نورو ته به مو د خپلو ښو اعمالو آثار ورښوول، نو ځکه تاسی ته له هغوی ځنی ډير ښه کتاب درکړ شو. څو اوس په علم الشهود سره هم وګورو چه څوک ښه عمل پرې کوی؟ او خپل محاسن ښوولی شي؟.

فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن كَذَّبَ بِآيَاتِ اللَّهِ وَصَدَفَ عَنْهَا ۗ سَنَجْزِي الَّذِينَ يَصْدِفُونَ عَنْ آيَاتِنَا سُوءَ الْعَذَابِ بِمَا كَانُوا يَصْدِفُونَ ﴿١٥٧﴾

نو څوک دی زيات ظالم (يعنی نشته لوی ظالم) له هغه چا چه نسبت د دروغو کوی په آيتونو د الله او څنګ کوی (ګرځی) له دی (آيتونو) څخه، ژر به (مونږ) سزا ورکړو هغو کسانو ته چه څنګ کوی ګرځی دوی له آيتونو زمونږ څخه سخت عذاب په سبب د دی چه وو دوی چه څنګ به ئی کاوه (ګرځيدل به له حق څخه).

**تفسير:** اوس که وروسته د داسی روښان او بی مثاله کتاب له درتللو څخه څوک چه د ده آيتونو ته د دروغو نسبت وکړی يا ئی له قبلولو څخنی غاړه وغړوی يا د نورو مخه ونيسی چه پری ايمان رانه وړی نو له ده څخنی لوی ظالم به بل نه وی.

**تنبيه : د** ﴿وَصَدَفَ عَنْهَا﴾ دوه معناګانی له اسلافو څخنی منقولی دی «امتناع» او «اعراض» دلته مغفور شيخ الهند د «اعراض» معنی غوره کړی ده.

هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّاۤ اَنْ تَاْتِيَهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ اَوْ يَاْتِيَ رَبُّكَ اَوْ يَاْتِيَ
بَعْضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ ؕ يَوْمَ يَاْتِيْ بَعْضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ لَا يَنْفَعُ نَفْسًا
اِيْمَانُهَا لَمْ تَكُنْ اٰمَنَتْ مِنْ قَبْلُ اَوْ كَسَبَتْ فِيْۤ اِيْمَانِهَا خَيْرًا ؕ قُلِ
انْتَظِرُوْۤا اِنَّا مُنْتَظِرُوْنَ ﴿۱۵۸﴾

نه کوی انتظار دوی (د هيڅ شی) مګر د دی چه راشی دوی ته ملائکی (پرښتی د موت يا د عذاب) يا راشی (عذاب د) رب ستا يا راشی څينی دلائل (د قدرت) د رب ستا (چه علامی د قيامت دی): په هغه ورځ کښی چه راشی څينی دلائل د (قدرت) د رب ستا نه به رسوی فائده (نفع) هيڅ نفس ته ايمان راوړل د ده چه نه وی دا نفس چه ايمان ئی راوړی وی پخوا (له دی نه) يا (نه وی) چه کسب ئی کړی وی په ايمان خپل کښی څه خير (نيکی)، ووايه (ای محمده ! دوی ته) چه انتظار کوئ تاسی بيشکه مونږ هم انتظار کوونکی يو.

**تفسير :** يعنی د الله تعالیٰ له لوری د هدايت معين حد پوره شو، انبياء عليهم السلام مبعوث او شرائع نازل شول او آسمانی کتابونه راښکته شول: تر دی چه د پاک الله وروستنی کتاب هم راغی

نو بیا هم ئی دوی نه قبلوی نو ښائی چه دوی دی خبری ته سترگی په لاری ناست وی چه پخپله پاک الله یا پرښتی راشی، یا د قدرت کومه لویه علامه (لکه قیامت یا کوم بل لوی دلیل) ښکاره شی. نو باید پوه شئ چه د قیامت له علائمو ځنی یوه علامه دا هم ده چه د هغه له ظهور نه وروسته نه د کافر ایمان راوړل او نه د عاصی توبه کول معتبر دی. د صحیحینو احادیث دا راښیی چه دغه علامه د مغرب له لوری د لمر ختل دی یعنی کله چه د پاک الله اراده د دنیا په ختمولو باندی وشی او د موجوده عالم نظام سره گډوډ او ویجاړ کړ شی نو د موجوده طبیعی قوانینو په خلاف به ډیر عظیم الشان خوارق او لوئی بی مثاله او بی ساری پیښی واقع شی چه د هغو له جملی نه یوه دا ده چه لمر به د مشرق په ځای له مغربه راڅرگند شی، غالباً له دی مقلوبی حرکت او تهقری رجعت څخه به په دغه لوری اشاره مقصود وی چه د هغو قدرتی قوانینو او طبیعی نوامیسو (چه د دنیا په پخوانی نظم او نسق کښی سره بوخت او لگیا وو) میعاد ختم شوی دی او د «شمسی نظام» د گډوډ او لاندی باندی کیدلو وخت رارسیدلی دی، گواکی له هغه وخت راهیسی د «عالم الکبیر» یعنی د دنیا د ځنکدن او نزعی وخت شروع کیږی، او همغسی چه (عالم الصغیر» یعنی د انسان د ځنکدن په وخت کښی ایمان او توبه نه قبلیږی ځکه چه هغه توبه چه فی الحقیقت واقعی او اختیاری توبه نه وی. هم داسی د «مغرب له خوا د لمر ختلو» څخه وروسته به د گرد (تول) عالم په حق کښی هم دغه حکم وی چه د هیچا ایمان او توبه به معتبره نه وی، په ځینو روایاتو کښی د «طلوع الشمس من مغربها» سره ځینی نوری علامی هم بیانی شوی دی مثلاً «خروج الدجال خروج الدابه» او نور. د دی روایاتو څخه داسی مطلب څرگندیږی: کله چه د دغو علائمو گرده (توله) مجموعه متحققه شی او دغه هلته کیدی شی چه «طلوع الشمس من المغرب» هم متحقق شی نو د توبی ور تړل کیږی او بیل بیل پر هره علامه باندی دا حکم نه دی متفرع. زمونږ د زمانی ځینو ملحدانو چه هری یوی فوق العاده واقعی ته د استعاری په رنگ ورکولو سره عادی دی دوی د «طلوع الشمس من المغرب» د استعاری جوړولو په فکر کښی هم دی. غالباً د دوی په فکر کښی به د قیامت راتگ هم تش یو دول (طریقه) استعاره وی. (العیاذ بالله!)

**تنبیه :** دا چه فرمائی «راشی پرښتی یا راشی رب ستا» د دی تفسیر په دویم جزء د بقرة په (۲۱۰) آیت (۲۵) رکوع کښی د ﴿ هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن يَأۡتِيَهُمُ ٱللَّهُ فِي ظُلَلٖ مِّنَ ٱلۡغَمَامِ ﴾ الآية - کښی تیر شوی دی، هلته دی ولوستل شی! او د ﴿ أَوۡ كَسَبَتۡ فِيٓ إِيمَٰنِهَا خَيۡرٗا ﴾ د جملی عطف پر ﴿ ءَامَنَتۡ مِن قَبۡلُ ﴾ دی. او د عبارت تقدیر د ابن المنیر رحمة الله علیه او نورو محققینو رحمهم الله په نزد داسی دی:

**«لا ینفع نفسا ایمانها او کسبها خیرا لم تکن امنت من قبل او لم تکن کسبت فی ایمانها خیراً»** یعنی هغه چه لا له پخوا ئی ایمان نه وی راوړی په هغه وخت کښی به ئی ایمان نه نافع کیږی او هغه چه لا له پخوا ئی د خیر کسب نه وی کړی، د ده د خیر کسب به نافع نه وی یعنی توبه ئی نه قبلیږی.

إِنَّ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا شِيَعًا لَّسْتَ مِنْهُمْ فِي شَيْءٍ ۚ إِنَّمَا أَمْرُهُمْ إِلَى اللَّهِ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ﴿١٥٩﴾

بیشکه هغه کسان چه تار په تار کړی ئی دی دین خپل (چه ځینی ئی منی او ځینی ئی نه منی) او شول دوی فرقی فرقی نه ئی ته له دوی نه په هیڅ شی کښی (یعنی هیڅ تعرض ورته مه کوه!)، بیشکه هم دا خبره ده چه امر (کار) د دوی (سپارلی شوی دی) الله ته بیا به خبر کړی (الله) دوی په هغه چه وو دوی چه کول بی ئی.

**تفسیر:** په پخوانی رکوع کښی ئی له ﴿ قُلْ تَعَالَوْا أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ ﴾ الآية ـ ځخه دیر احکام بیان او ارشاد کړل : ﴿ وَأَنَّ هَٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ ۖ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِ ﴾ یعنی صراط المستقیم د دین سمه لاره همیشه هم دغه یوه لاره ده، که څوک له هغی سمی لاری ځخه وښوئیږی نو د ګمراهی لاری ډیری دی، تول انبیاء او مرسلین علیهم السلام د اصولو له حیثه پر همغی یوی لاری تللی دی او خلقو (وګړو) ته ئی دعوت (بلنه) کړی ده ( ﴿ شَرَعَ لَكُم مِّنَ الدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰ ۖ أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ ﴾ (۲۵) جزء د الشوری (۱۳) آیت (۲) رکوع) د دین په اصولو کښی دوی یو له بل سره هیڅ تفریق نه لری، د زمان او مکان او خارجی احوالو له اختلافه هغه تفاوت چه په شرعی فروعو کښی شوی دی هغه تفرق نه دی بلکه د یوه واحد او مشترک مقصد د وصول له پاره د هر وخت سره مناسب په رنګ کښی د ذرائعو تنوع ده. له هغه دین سره چه پخوانیو انبیاؤ علیهم السلام راوړی ؤ د موسیٰ علیه السلام کتاب هم مخالفت نه دی کړی بلکه تورات د هغه د تکمیل او تفصیل په مقصد نازل شوی دی له ګردو (تولو) ځنی په آخر کښی قرآن کریم نازل شو چه د تولو پخوانیو کتابونو متمم او مصدق او د هر راز (قسم) علومو او معارفو محافظ او معلم دی. ضمناً ئی له دی کتابونو ځنی د اعراض کوونکو حال بیان کړ، او په ﴿ إِنَّ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ ﴾ سره ئی بیا اصل مطلب ته رجوع وکړه، یعنی د الهٰی دین لاره (صراط المستقیم) یوه ده. هغه کسان چه د دین په اصل کښی تفرقه پیدا کوی، او په خپل سر بیلی بیلی لاری راباسی، او د ګوند (دله) او ګوند بازی (دله بازی) په بلا آخته کیږی، که دوی یهودیان وی یا نصرانیان یا هغه د اسلام مدعیان چه په مستقبل کښی د دینی عقائدو د ځادر څیروونکی دی، له دغو خلقو سره ستاسی هیڅ غرض او کار نشته. دا ګرد (تول) په ﴿ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِ ﴾ کښی داخل دی تاسی له دوی ځنی د برائت او بیزاری اعلان وکړئ، او د پاک الله په همغسی سمی صافی لاری (صراط المستقیم)

باندی تینگ رهی (روان) اوسئ! او د هغوی عاقبت او انجام پاک الله ته وسپارئ! الله تعالیٰ به په دنیا یا په آخرت کښې دوی ته د هغوی د اختلاف او انشقاق نتائج ورخرګند کړی. (چه انتقام تری آخلی په دنیا کښې او که آخرت ته ئی پریږدی او که توبه پری باسی) حضرت شاه صاحب د «فرقوا دینهم» په توضیح کښې فرمائی «هغه» خبری چه د باور کولو دی (لکه د دین اصول) نه شائی چه په هغی کښې فرق وکړ شی! او هغه چه د کولو دی (لکه د دین فروع) که د هغوی طریقی متعددی وی نو بدی نه دی

مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ عَشْرُ اَمْثَالِهَا ۚ وَمَنْ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزٰٓى اِلَّا مِثْلَهَا وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿١٦٠﴾

هر هغه چه راتله ئی وکړه په یوه نیکی نو ده ته ده (جزا د) لسو (نیکیو په) مثل د هغی (نیکی) او هر هغه څوک چه راتله ئی وکړه په بدی نو سزا نشی ورکولی (ده ته) مګر په مثل د همغی (بدی) او په دوی به ظلم ونه کړی شی (په تنقیص د ثواب یا په تزئید د عقاب)

**تفسیر :** په ﴿ ثُمَّ يُنَبِّئُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴾ کښې د دوی د شنیعو اعمالو په مجازاتو تنبیه شوی ده او د هر نیک او بد د عمومی مجازاتو قانون ئی هم ورسره راښوولی دی چه د نیکی بدل لږ تر لږه لس چنده او د بدی بدل زیات له زیاته سم له هغه سره دی، یعنی هر هغه څوک چه یوه نیکی وکړی نو لږ تر لږه به د همغی نیکی په شان د لسو نیکیو ثواب ئی ور په برخه شی او زائد ثواب ئی حد او اندازه نه لری ﴿ وَاللّٰهُ يُضٰعِفُ لِمَنْ يَّشَآءُ ﴾ او هغه چه د یوی بدی مرتکب شی، نو د همغی بدی له پاره کومه سزا چه مقرر ده پر هغی به زیادت ونه شی، هو! د تخفیف یا د بیخی معافیدلو امید او توقع ئی شته. او پاک الله مختار دی بیا چیری چه رحمت دومره ډیر وی نو هلته له سره د ظلم امکان نشته.

قُلْ اِنَّنِيْ هَدٰىنِيْ رَبِّيْٓ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۚ دِيْنًا قِيَمًا مِّلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا ۚ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿١٦١﴾

ووایه (ای محمده! دغو متفرقانو ته) بیشکه زه هدایت (ښوونه) کړی ده ماته رب زما لاری سمی برابری ته دین صحیح برابر، ملت (دین) د ابراهیم حال

دا چه حنیف ؤ (مائل ؤ له باطله حق ته او د واحد الله خالص بنده ؤ) او نه ؤ له مشرکانو (لکه چه مشرکان وائی).

**تفسیر :** یعنی تاسی په دین کښی څومره لاری چه غواړئ، جوړی ئی کړئ!، او څومره معبودان چه دروئ، وئی دروئ!، ماته خو زما پاک الله: صراط المستقیم برابره لاره راښوولی ده او هغه د خالص توحید او کامل تفویض او توکل داسی سمه صافه لاره ده چه پری لوی موحد او د پیغمبرانو لوی پلار ابراهیم خلیل الله په ډیر قوت او خلوصیت سره تللی دی، چه د ده نوم نن هم په تولو عربو او گردو (تولو) سماوی ادیانو کښی په ډیر عظمت او احترام سره یادیږی.

قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٦٢﴾ لَا شَرِيكَ لَهُ ۖ وَبِذَٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ ﴿١٦٣﴾

ووایه (ای محمده) دوی ته بیشکه لمونځ زما او قربانی زما او (طاعتونه د) ژوندون زما او مرگ زما (پر صالح عمل) خاص الله لره دی چه رب (پالونکی) د تولو عالمیانو (د جهان) دی نشته هیڅ شریک ده لره (په دغو تیرو عبادتونو کښی) او په هم دی (توحید) امر (حکم) کړی شوی دی ماته او زه اول د مسلمانانو (الله ته غاړی ایښودونکو) څخه یم.

**تفسیر :** په دی آیت کښی د توحید او د تفویض د خورا (ډیر) لوړ مقام سراغ او پته ورکړی شوی ده، چه پر هغه زمونږ سردار او بادار محمد مصطفیٰ صلی الله علیه و آله وسلم فائز او کامیاب شوی دی، د لمانځه او د قربانی له ذکره په خصوصیت سره د هغو مشرکانو تردید بالتصریح وشو چه بدنی عبادت او قربانی به ئی د غیر الله په نامه کوله. تول مفسرین د ﴿ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ ﴾ مطلب داسی آخلی چه د دی محمدی امت په اعتبار دوی له اول المسلمین ځنی دی. لیکن د «جامع ترمذی» د دی حدیث په مطابق: «کنت نبیا و آدم بین الروح والجسد» محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم اول الانبیاء دی، نو د ده په اول المسلمین توب کښی څه شبهه کیدی شی؟ بلکه نشی کیدی. (برسیره پر دی ممکن دی چه دلته زمانی اولیت نه وی مراد، بلکه رتبی تقدم مراد وی. یعنی زه د گرد (تول) جهان د فرمانبردارانو په صف کښی اول لمبر او له گردو (تولو) ځنی وړاندی یم. ښائی چه محقق شیخ الهند رحمة الله علیه پخپلی ترجمی کښی د «زه له گردو (تولو) ځنی پخوانی فرمانبردار یم» په ځای «له گردو (تولو) ځنی اول فرمانبردار یم» په لیکلو سره په هم دی لوری اشاره فرمایلی وی، ځکه چه د محاوری په اعتبار له دی تعبیر ځنی رتبی اولیت ډیر ښه څرگندیږی). والله اعلم.

قُلْ أَغَيْرَ اللَّهِ أَبْغِي رَبًّا وَهُوَ رَبُّ كُلِّ شَيْءٍ

ووايه (اى محمده! دوى ته) آيا بى له الله غواړم زه بل رب (پالونکى؟ بلكه نه ئى غواړم) حال دا چه هم دى رب د هر څيز دى،

**تفسير** : پخوا د توحيد فى الالوهيت ذكر ؤ، اوس د توحيد فى الربوبيت تصريح فرمائى. يعنى هم داسى چه معبود ماسوا له ده بل څوك نه دى، مستعان هم بل هيڅوك نشى كيدى، ځكه چه استعانت پر عام ربوبيت باندى متفرع دى.( ﴿ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ﴾ د الفاتحه د سورت (٤) آيت).

وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ إِلَّا عَلَيْهَا وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ مَرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿١٦٤﴾

او كسب نه كوى (د بدى) هيڅ يو نفس مگر (ضرر ئى دى) پر (ذمه د ده، او نه باروى هيڅ نفس گنهگار گناه د بل نفس (بلكه هر څوك خپل بار وړى)، بيا خاص طرف د رب ستاسى ته بيرته ورتلل ستاسى دى (په قيامت كښى) نو خبر به كړى تاسى په هغه شى چه وئ تاسى چه په هغه كښى به مو اختلاف كاوه (په دنيا كښى په دينى امورو كښى).

**تفسير** : كفارو له مسلمانانو سره په توحيد او نورو امورو كښى جگړى كولى، او ويل به ئى چه راشئ د توحيد لاره پريږدئ او زموږ د شرك په لارى رادرومئ كه په دى كښى په تاسى باندى څه گناه راشى هغه دى زموږ په غاړه وى. ﴿ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا اتَّبِعُوا سَبِيلَنَا وَلْنَحْمِلْ خَطَايَاكُمْ وَمَا هُمْ بِحَامِلِينَ مِنْ خَطَايَاهُمْ مِنْ شَيْءٍ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴾ (٢٠ جزء د العنكبوت (١٢) آيت (١) ركوع دلته د هغه ځواب وركړى شوى دى چه د هر چا گناه د ده پخپله غاړه ده، يو د بل د گناه ذمه وارى نشى كولى او نه د بل بار وړى شى، باقى ستاسى دا جگړى او اختلافونه كله چه د الله تعالىٰ په حضور كښى وړاندى شى گرد (تول) سره فيصله كيږى (او هلته به غالب او مغلوب (وړ- پر) دربشكاريږى) دا دنيا د فيصلى ځاى نه دى. بلكه د امتحان او ازمويښت كور دى. لكه چه په پخوانى آيت كښى ئى خبر راكړ.

وَهُوَ الَّذِي جَعَلَكُمْ خَلَائِفَ الْأَرْضِ وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ لِيَبْلُوَكُمْ فِي مَا آتَاكُمْ إِنَّ رَبَّكَ سَرِيعُ الْعِقَابِ وَإِنَّهُ لَغَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿١٦٥﴾

او دغه (الله) هغه ذات دی چه گرځولی یی یئ تاسی خلیفگان د ځمکی او پورته کړی ئی دی ځینی ستاسی د پاسه د ځینو (نورو په) درجو مرتبو کښی د دی د پاره چه وازمویی تاسی په هغو (حکمونو) کښی چه درکړی ئی دی تاسی ته، بیشکه رب ستا ډیر ژر دی عذاب (د ده پر هغه چا چه اراده وفرمائی) او بیشکه الله خامخا ښه ښښونکی دی (د شاکرینو) ډیر رحم والا (په شکر کوونکو د اجر او ثواب په انعام سره).

**تفسیر** : یعنی الله تعالیٰ تاسی په ځمکه کښی خپل خلیفه گان او نائبان درولی یئ تر څو تاسی د ده له درکړو اختیاراتو څخه څرنگه کار اخلئ؟ او په څه ډول (طریقه) حاکمانه تصرفات اجراء کوئ؟ یا ئی تاسی یو له بله نائبان او وکیلان گرځولی یئ چه یو قوم ځی او بل قوم د هغه په ځای کینی.

(﴿ وَرَفَعَ ﴾: او پورته کړی ئی دی ځینی ستاسی د پاسه د ځینو نورو په درجو مرتبو کښی) یعنی ستاسی تر مینځ ئی بی حده تفاوت او د مدارجو فرق کړی دی، لکه چه په شکلونو، صورتونو، رنگونو، لهجو، اخلاقو ملکاتو. محاسنو. مزایاؤ. رزقونو، دولتونو، عزتونو، مرتبو او نورو صفاتو او ممیزاتو او خصلتونو کښی د انسانی افرادو په منځ کښی بیشماره درجی شته (چه څوک ئی عالمان کړل، څوک ئی جاهلان، څوک ئی بادشاهان کړل، څوک ئی غریبان، څوک ئی ماړه کړل، څوک ئی وږی.)

(﴿ لِيَبْلُوَكُمْ ﴾ : د دی دپاره چه وازموئی تاسی په هغه (حکم) کښی چه درکړی ئی دی تاسی ته یعنی چه درښکاره شی په داسی حالاتو کښی کوم یو تر کومه ځایه پوری د الله تعالیٰ حکم منی او وازموئی تاسی په هر هغه شی کښی چه درکړی ئی دی تاسی ته لکه مال او جاه چه معلوم او بیل شی شاکر له صابره ابن کثیر رحمة الله علیه له﴿ فِي مَا آتَاكُمْ ﴾ ځنی هغه مختلفی درجی او احوال مرادوی چه الله تعالیٰ حسب الاستعداد او لیاقت په انسانانو کښی ایښی دی. په دی تقدیر به د ازموینی حاصل داسی کیږی، مثلاً غنی د خپلی غناء په حالت کښی تر کومه ځایه پوری شکر باسی؟ او فقیر د فقر په حالات کښی تر کومی اندازی د صبر ثبوت راڅرگندوی؟ وقس علیه البواقی)

په هر حال هغه چه په دغه ازمويښت کښې بيخى نالايق ثابت شى، حق تعالىٰ د ده په حق کښې «سريع العقاب» دى، او هر چا چه لږ قصور کړى وى د هغه په حق کښې «غفور» دى او هر چا چه خپلې وظيفې پوره سر ته رسولې وى د هغه په حق کښې «رحيم» دى.

**(تمت سورة الانعام بعون الله الملك العلام)**
**(و نطلب منه في الدنيا حسن الاقدام و في العقبا حسن الاكرام)**

---

(سورة «الاعراف» مكية الامن آية (١٦٣) الى غاية آية)
( (١٧٠) فمدنية وهى (٢٠٦) آيات و (٢٤) ركوعا عدد تلاوتها «٧»)
(وعدد نزولها (٣٩) نزلت بعد «ص» )
(د «الاعراف» سورت مكى دى پرته (علاوه) له ((١٦٣) تر (١٧٠) آيت پورى چه مدنى دى.)
( (٢٠٦) آيتونه (٢٤) ركوع لرى)
په تلاوت کښې (٧) او په نزول کښې (٣٩) سورت دى)
( د «ص» له سورت څخه وروسته نازل شوى دى)

---

بِسْــــــــــــــــمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع كوم په نامه د الله چه ډير زيات مهربان پوره رحم لرونكى دى

---

الٓمّٓصٓ ① كِتٰبٌ اُنْزِلَ اِلَيْكَ فَلَا يَكُنْ فِيْ صَدْرِكَ حَرَجٌ مِّنْهُ

(دا) كتاب دى چه نازل كړى (ليږلى) شوى دى تاته (اى محمده!) نو نه دى وى په سينه ستا كښې تنگى (د رسولو) د ده (چه له اولو به ئى څوک نه منى)

---

**تفسير :** ابن عباس رضى الله تعالىٰ عنه د «حرج» معنى په شک سره كړى ده، گواكى ﴿ فَلَا يَكُنْ فِيْ صَدْرِكَ حَرَجٌ ﴾ به له ﴿ فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴾ سره يوه معنى ولرى. رسول الله چه الله تعالىٰ خپل كتاب پرى نازل فرمايلى دى د ده له شانه څخه لرى ده چه د هغه د احكامو او اخبارو په نسبت لږ څه انديښنه يا شک او شبهه د ده په زړه کښې لاره ومومى نورو مفسرينو دغه الفاظ پر خپلې ظاهرى معنى گانو باندى پريښى دى لكه چه محقق شيخ الهند رحمة الله عليه هم دغه اختيار كړى ده. يعنى هغه ته (چه له گردو (تولو) خلائقو څخنى غوره شوى، او كتاب الله پرى نازل شوى دى) وړ (مستحق) او لائق نه دى چه د احمقانو او معاندانو له طعنو، بدو او

چتی (فضول) سوالاتو ځنی متأثر شي او د دی کتاب د تبلیغ له کومی برخی ځنی منقبض او زړه تنگی شي، ﴿ فَلَعَلَّكَ تَارِكٌۢ بَعۡضَ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيۡكَ وَضَآئِقُۢ بِهِۦ صَدۡرُكَ أَن يَقُولُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ كَنزٌ أَوۡ جَآءَ مَعَهُۥ مَلَكٌۚ إِنَّمَآ أَنتَ نَذِيرٞۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٌ ﴾ (١٢ جزء د هود (١٢) آیت (٢) رکوع) که په فرض محال سره پخپله د رسول صلی الله علیه وسلم په زړه کښی د ده د کتاب او د هغه د مستقبل په نسبت په نهایت وثوق او انشراح سره قلبی اطمینان حاصل نه وی نو دی به خپله د انذار او تذکیر فریضه په کوم قوت او جرائت سره اداء کړی؟.

لِتُنذِرَ بِهِۦ وَذِكۡرَىٰ لِلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٢﴾

له پاره د دی چه وویروی (ته ای محمده!) په دغه (کتاب) سره (کفار له جهنم څخه) او (له پاره د دی چه پند ورکړی پری) په پند ورکولو سره مومنانو ته (یا دا قرآن پند دی له پاره د مومنانو).

**تفسیر** : یعنی د کتاب له نزوله دا غرض دی چه تاسی گردی (تولی) دنیا ته د دوی له مستقبل او د بدی له انجام ځنی خبر ورکړئ، او دغه د مومنانو په حق کښی په خاص طور سره د یوی مؤثری وینا او پند په شان ثابت شي.

ٱتَّبِعُواْ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُمۡ وَلَا تَتَّبِعُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَۗ قَلِيلٗا مَّا تَذَكَّرُونَ ﴿٣﴾

متابعت کوئ (ای مکلفانو!) د هغه شي چه نازل کړی (لیږلی) شوی دی تاسی ته له (جانبه د) رب ستاسی او مه متابعت کوئ تاسی بی له الله د (نورو) دوستانو (خپلو چه شیاطین دی)، لږ شانی پند اخلئ تاسی.

**تفسیر** :﴿قَلِيلٗا﴾ مفعول مقدم دی د ﴿تَذَكَّرُونَ﴾ او ﴿مَّا﴾زائده ده،) انسان که د حق تعالیٰ د لوی تربیت په برکت د خپل ابتدا او انتهاء، او د طاعت او معصیت پر نتائجو په پوره دول (طریقه) فکر او دقت وکړی نو هیچیری به داسی جرائت ونه کړی چه د خپل کریم پروردگار نازل شوی هدایات پریږدی او د شیاطین الانس والجن په رفاقت خوښ او د دوی متابعت وکړی له تیرو اقوامو ځنی د هغو کسانو چه د الله تعالیٰ د کتابونو او د رسولانو په مقابل کښی یی داسی رویه غوره کړی وه او هغوی ته کومی دنیوی سزا وی چه ورکړی شوی دی. وروسته راځی.

وَكَمْ مِّنْ قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَا فَجَآءَهَا بَاْسُنَا بَيَاتًا اَوْهُمْ قَآئِلُوْنَ ④ فَمَا كَانَ دَعْوٰىهُمْ اِذْ جَآءَهُمْ بَاْسُنَآ اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ⑤

او ډیر له (اوسیدونکو د) قریو ( د کفارو او فجارو) ځنی هلاک کړی دی مونږ دوی نو رابه غی (اهل د) هغو ته عذاب زمونږ حال دا چه دوی اوده (غافل) به وو د شپې (لکه قوم د لوط) یا اوده (غافل) به وو په غرمه کښې (لکه قوم د شعیب) نو نه به وه وینا د دوی کله چه رابه غی دوی ته عذاب زمونږ مګر دا چه ویل به دوی بیشکه چه مونږ وو مونږ ظالمان (پخپلو ځانونو چه د رسولانو تکذیب مو کاوه.)

**تفسیر :** یعنی کله چه د دوی ظلم او عدوان، کفر او عصیان له حده تیر شو، نو په دنیوی لذاتو او شهواتو کښې آخته او غرق او د الله تعالیٰ له عذابه بالکل بې فکره او د استراحت اخیستلو په مزو کښې دوب شول. چه ناڅاپه زمونږ عذاب پرې نازل شو بیا نو له دوی ځنی په دی دهشتناکی منظری او هلاک کوونکی ننداری او اله ګوله کښې ګردی (تولی) لوئی او ځانمنی (لویی) او تکبر هیر شول او له هر لوری د ﴿ اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴾ چیغه پورته او پرته (علاوه) له زاری ننواتی او ژړا او انګولا ځینی بل هیڅ شی به نه آوریدل کیږی. ګواکی په دغه وخت کښې دوی ته واضح او څرګندیږی او دوی پخپله اقرار کوی چه پاک الله په هیڅا باندی ظلم نه کوی مونږ پخپله پر خپلو ځانونو ظلم کړی دی.

**تنبیه :** د ﴿ فَجَآءَهَا بَاْسُنَا ﴾ د (ف) په نسبت د مفسرینو څو اقواله دی. غالباً محقق شیخ الهند رحمة الله علیه هغه د ﴿ اَهْلَكْنٰهَا ﴾ تفسیر او تفصیل مقرر کړی دی. لکه چه ویلی شی **«توضأ فغسل وجهه و ذراعیه»** هغه سړی اودس وکړ نو ئی ووینځل خپل مخ او دواړه لاسونه او نور اعضاء په دی مثال کښې د مخ او لاسونو وینځل، د اودس کولو تفصیل او تفسیر دی. هم داسی دلته د هلاک کولو د تفسیر او تفصیل کیفیت په عذاب سره بیان کړ شو، والله اعلم عامو مفسرینو د دی آیت ترجمه داسی کړی ده او ډیر دی له اوسیدونکو د کلیو د کفارو او فجارو چه هلاک کړی دی مونږ یعنی چه اراده کړی وه مونږ د هلاکولو د دوی پس راغلی دی اهل د هغه ښار ته عذاب زمونږ د شپې چه وخت د غفلت او خوب دی یا به دوی د غرمی په خوب اوده وو چه وخت د ارام او راحت دی او عذاب پکښې ډیر سخت دی.

فَلَنَسْـَٔلَنَّ الَّذِيْنَ اُرْسِلَ اِلَيْهِمْ وَلَنَسْـَٔلَنَّ الْمُرْسَلِيْنَ ⑥

نو خامخا وبه پوښتو (په قيامت كښې) هرومرو (خامخا) هغه (امتونه) چه ليږلي شوي دي دوي ته (رسولان چه څه اجابت ئې كړى) او خامخا وبه پوښتو هرومرو (خامخا) رسولان (هم له اداء د رسالت او له ابلاغه د احكام او د دى چه ستاسي امتونو څرنګه اجابت وكړ؟)

تفسير : له هغو امتونو څخه چه پيغمبران پكښې مبعوث ورليږلي شوى دي پوښتنه كيږى. ﴿ مَاذَآ أَجَبْتُمُ الْمُرْسَلِينَ ﴾ تاسي زمونږ د مرسلانو بلنه تر كوم ځاى پورى منلي ده؟» او له مرسلانو څخه پوښتنه كيږى چه ﴿ مَاذَآ أُجِبْتُمْ ﴾ تاسي د امت له لورى څه ځواب دركړى شوى و؟».

فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيْهِم بِعِلْمٍ وَمَا كُنَّا غَآئِبِينَ ۝٧

نو خامخا بيان به كړو مونږ هرومرو (خامخا) (احوال د هغوى) دوى ته په علم سره او نه يو مونږ غائبان (له اعمالو د دوى بلكه عالمان او حاضران يو).

تفسير : يعنى ستاسى هيڅ يو لوى او وړوكى دير او لږ عملونه يا ظاهرى او باطني احوال زمونږ له علمه غائب نه دى مونږ بى د نورو له وسيلى له يوى يوى ذرى خبردار يو له خپل ازلى محيط علم سره سم ګرد (تول) پخواني او وروستني احوال او افعال په ښكاره ډول (طريقه) تاسى ته مخامخ كيښودى شو. هغه اعمالنامى چه د ملائكو له خوا ليكلى شوى دى د يوه ويښته په اندازه هم له علم الله څخه نشى مخالفى كيدى او د هغو په وسيله اطلاع وركول يوازى د ضابطى مراعات او د حكومتى نظام مظاهره ده. كه نه الله تعالیٰ پخپل علم كښې معاذ الله دغو ذرائعو ته له سره نه محتاجيږى.

وَالْوَزْنُ يَوْمَئِذٍ الْحَقُّ ۚ فَمَن ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ۝٨ وَمَنْ
خَفَّتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَٰٓئِكَ الَّذِينَ خَسِرُوٓا أَنفُسَهُم بِمَا كَانُوا بِـَٔايَٰتِنَا يَظْلِمُونَ ۝٩

او تول (د عملونو) په دغې ورځې كښې حق (او برابر) دى (دپاره د قطع د عذر) نو د هر چا چه درانه وختل تولونه (يا تللى شوى نيک عملونه) د ده نو دغه كسان هم دوى دى په مراد رسيدلى (برياليى) او د هر چا چه سپک وختل تولونه (يا تلل شوى بد عملونه) د ده (يعنى له نظره ولويد) نو دغه

**کسان هغه دي چه زيان رسولی دی دوی نفسونو (ځانونو) خپلو ته(په رسولو يی اور ته) په سبب د هغه چه وو دوی چه په آيتونو زمونږ به ئی ظلم (او تری انکار به يی) کاوه.**

**تفسير** : د قيامت په ورځ کښی د ګردو (تولو) خلقو اعمال وزن کيږی. هغه کسان چه قلبی اعمال او د جوارحو افعال ئی درانه وی دوی به بريالی (بامراده) وی او د هر چا وزن چه سپک شی دی به په خساره کښی پاتی وی. حضرت شاه صاحب فرمائی: «د هر چا عمل له وزن سره موافق ليکل کيږی. که يو کار له اخلاص او محبت او شرعی احکامو سره موافق او سم وکړی شی او پخپل وخت کښی اداء کړ شی نو د هغه وزن به زياتيږی او که همغه عمل په ريا او ريب ځان ښودانی يا له حکمه څنی چپ يا ئی پخپل وخت کښی کړی نه وی نو وزن ئی کميږی. په آخرت کښی هغه کاغذونه تللی کيږی (چه پر هغو د انسانانو اعمال او احوال قيد او ضبط وی) نو که حسنه اعمال درانه وختل نو له سيئاتو څخه ئی تيريږی او که حسنات ئی سپک وختل نو بيا نيول کيږی.

د ځينو علماؤ خيال دا دی : «اعمال چه نن اعراض دی، هلته به داعيانو په صورت مجسد، او هم دغه اعمال بالذات تلل کيږی ويل کيږی چه زمونږ اعمال خو داسی غير قادر الذات اعراض دی چه د هغوی هر جزء سم له وقوعه سره متصلاً معلوم کيږی نو بيا به د دوی توليدل، او تلل کيدل څه معنی لری؟»

زه وايم چه نن ورځ په «ګراموفون» کښی چه دغه ډيری لوئی او اوږدی ويناوی قيد او ضبطيږی، آيا دغه تقارير له اعراضو څخنی نه دی؟ چه د هغه يو حرف زمونږ له ژبی هلته اداء کيږی چه پخوانی حرف ئی لا له پخوا زمونږ له ژبی څخه وتلی او فناء شوی وی، نو بيا د دغه تقرير ګرده (توله) مجموعه په څه ډول (طريقه) سره په «ګراموفون» کښی سره توليږی؟ او تل ساتله کيږی؟ له دی نه وپوهيږئ، هغه پاک الله چه د ګراموفون د موجد هم موجد دی، د ده له قدرته دا خبره هيڅ لری نه ده چه د ګردو (تولو) انسانانو د اعمالو يو يو پوره او مکمل ريکارډ تيار کيږدی چه په کښی ګرد (تول) وړوکی او لوی شيان محفوظ او ساتلی او د تل لپاره مضبوط او حاضر وی، او يوه وړوکی ذره او بخرکی او خاشه هم تری پاتی نشی. هو! د دوی د اعمالو وزن کيدل د نصوصو له مخی مونږ ته دومره راڅرګند شوی دی چه وزن له داسی يو ميزان (تلی) سره کيږی چه پکښی کفتين (پلی) او شاهين (ډنډی) او لسان (موتی) او نور شته، ليکن د دغه ميزان، او تلی دا دواړه کفتين به څه نوعيت او کيفيت لری؟ او د هغو د تول معلومولو طريقه او اصول به څرنګه وی؟ د داسی خبری احاطه کول زمونږ د عقولو او افهامو له اندازی څخه لری دی، او زمونږ پوهه ورته نشی رسيدلی نو ځکه د هغو په پوهيدلو سره مونږ نه يو مکلف کړی شوی. بلکه يو ميزان لا څه، د هغه عالم څومره نور شيان چه دی غير له دی چه مونږ ئی يوازی په نامه خبر يو او آورو ئی او د هغو په نسبت همغسی عقيده او دومره اجمالی معلومات لرو چه

مفهوم ئی مونږ ته پاک قرآن او یا مبارک سنت راښوولی دی. له هغه څخه پر زیاتو تفصیلاتو زمونږ مطلع کیدل زمونږ د فکر او پوهې له قوت او قدرته وتلی او خارج دی. ځکه د هغو نوامیسو او قوانینو لاندی به چه د هغه ابدی عالم وجود نظم او نسق وی پر هغو باندی مونږ سره له دی چه اوس په دی فانی عالم کښې هستوګنه لرو نشو پوهیدی. د هم دی وړی دنیا موازینو (تلو) ته وګورئی! چه څو انواع او اقسام لری؟ یوه تله میزان هغه ده چه طلا، نقره او جواهرات پکښې تلل کیږی، بله هغه ترازو ده چه غلی دانی، لرګی، میوی او نور شیان پکښې تلل کیږی بله هغه عمومی تله ده چه لوی تجارتی پیتی او بارونه پری تلل کیږی (او اوزان په هغو ستنو (عقربونو) سره راښکندوی چه د ساعت د ستنی په شان وی او بله هغه تله ده چه ښی او کیڼ لور ته په سانتیګرامونو او دیسیګرامونو خطونو سره ویشلی شوی ده او په یوه وړوکی لنګر سره هیسته راهیسته دی خوا هغی خوا کاوه شی.) برسیره په دی «مقیاس الهوا، مقیاس المیاه، مقیاس الحراره، مقیاس الرطوبه مقیاس الارتفاع میزان التضییق» او نور هم یو یو دول (طریقه) موازین دی چه په هغو سره د هوا او د اوبو تودوخی او د لندبلو او د لوړوالی او د تضییق او د حرارت او برودت او نورو شیانو درجی ځانته راښکندوو. ترمامیتر، زمونږ د بدن د داخلی حرارت (چه له اعراضو څخنی دی) داسی اندازه او تول راښکاروی چه اوس زمونږ په وجود کښې دومره درجه تودوخی شته، کله چه په دنیا کښې مونږ په شلهاؤ داسی جسمانی موازین وینو چه په هغو سره داعیانو او اعراضو اوزان او درجی او د هغو تفاوت او توپیر (فرق) معلوموو نو د هغه قادر مطلق، خالق برحق له پاره به دا خبره څه اشکال لری چه دی داسی یوه حسی تله هم قائمه کړی چه په هغی سره زمونږ د اعمالو او احوالو د اوزانو او درجاتو تفاوت او توپیر (فرق) صورتاً او حساً ظاهر او راښکند شی. ﴿ بِمَا كَانُوا بِآيَاتِنَا يَظْلِمُونَ ﴾ په سبب د هغه چه وو دوی چه په آیتونو زمونږ به ئی ظلم او تری به ئی انکار کاوه) او هم دا له آیتونو څخنی انکار کول د هغه حق تلفی ده چه هغه ئی په﴿ يَظْلِمُونَ ﴾سره اداء وفرمایله.

---

وَلَقَدْ مَكَّنَّاكُمْ فِي الْأَرْضِ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَايِشَ ۗ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴿١٠﴾ ع

---

او خامخا په تحقیق ځای (او قدرت او تصرف) درکړی دی مونږ تاسی ته (ای انسانانو!) په ځمکه کښې او پیدا (مقرر) کړی دی مونږ تاسی ته په دغی ځمکی کښې، (هر هر قسم اسباب د) ژوندانه، لږ شانی شکر وباسئ تاسی.

---

تفسیر : (دغه «قلیلاً» هم منصوب او «ما» زائده ده) له دی ځایه د ځینو آفاقیه ؤ او انفسیه

ۀ آیتونو ذکر او بیان شروع کیږی، چه په هغو سره له یوی لوری د حق تعالیٰ پر وجود باندی د دی جهان د کارخانی په حکیمانه نظم او نسق سره استدلال او د الله تعالیٰ د احساناتو او انعاماتو تذکره فرمائی، او د هغو د شکر د اداء کولو په لوری توجه ورکړی شوی ده او له بل لوری د نبوت ضرورت او د انبیاؤ علیهم السلام د راتګ او د دوی د سیرت، او د هغوی د متبعینو او د مخالفینو پای (اخر) او انجام (چه د دی سورت اصلی موضوع راښکاری) بیانیږی چه دغه آیتونه د هغو د توطیی او تمهید په دول (طریقه) مقدم کړی شوی دی.

---

وَلَقَدْ خَلَقْنَٰكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنَٰكُمْ ثُمَّ قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ ٱسْجُدُوا۟
لِءَادَمَ فَسَجَدُوٓا۟ إِلَّآ إِبْلِيسَ لَمْ يَكُن مِّنَ ٱلسَّٰجِدِينَ ﴿١١﴾ قَالَ
مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ قَالَ أَنَا۠ خَيْرٌ مِّنْهُ خَلَقْتَنِى
مِن نَّارٍ وَخَلَقْتَهُۥ مِن طِينٍ ﴿١٢﴾ قَالَ فَٱهْبِطْ مِنْهَا فَمَا يَكُونُ
لَكَ أَن تَتَكَبَّرَ فِيهَا فَٱخْرُجْ إِنَّكَ مِنَ ٱلصَّٰغِرِينَ ﴿١٣﴾

---

او خامخا په تحقیق پیدا کړ مونږ (پلار) ستاسی بیا صورت جوړ کړ مونږ د (پلار) ستاسی بیا وویل مونږ پرښتو ته چه سجده (د تحیت) وکړئ تاسی آدم ته. نو سجده وکړه دوی (ټولو) مګر ابلیس «سجده ونه کړه او» نه ؤ دی له سجده کوونکو ځنی. وویل (الله ابلیس ته) څه شی منع کړی ته «زما د حکم له تعمیل څخه» چه سجده دی ونه کړه کله چه امر (حکم) وکړ ما تاته!؟ وویل «ابلیس» زه غوره یم له آدمه، چه پیدا کړی دی یم زه له اوره او پیدا کړی دی تا دغه (آدم علیه السلام) له ختی ځنی. وویل (الله ابلیس ته) نو کوز شه! له دغه (آسمان یا جنت) څخه نو نه دی لائق تاته «ای ابلیسه! دا کار» چه تکبر «لوئی نافرمانی» وکړی! په دی ځای کښی نو ووځه (تری) بیشکه چه ته ئی له ذلیلانو.

---

**تفسیر :** یعنی ستاسی له تخلیقه پخوا ئی ستاسی د هستوګنی، ژوندانه، خوړلو او څښلو وسایل تیار او تهیه کړی دی بیا ئی ستاسی ماده پیدا کړه او دغی مادی ته ئی داسی ښایسته شکل او حسین او جمیل صورت عطا کړ چه بل کوم مخلوق ته ئی نه دی ورعطا کړی، بیا دغه

خاورين تصوير ته داسي روح او حقيقت ور مرحمت شو، چه د هغه په وسيله ستاسي پلار آدم عليه السلام «خليفة الله» او «مسجود الملائكه» وگرځيد او وجود ئې د گردو (تولو) انسانى افرادو پر وجود اجمالاً مشتمل ؤ بيا ئې شيطان (چه په دغه وخت كښې يې د آدم عليه السلام د تعظيمي سجدې څخه په دغه سبب غاړه غړولې وه چه زه غوره يم له آدمه نو سجده ورته لائقه نه ده او زه غوره يم له ده چه پيدا كړى دى يم زه له اوره او اور لطيف علوى نورانى جوهر دى او پيدا كړى دى دى آدم عليه السلام له ختې او خته كثيف ظلمانى جسم دى) ازلي مردود، وگرځاوه، ځكه چه هغه سجود د الٰهى خلافت د علامى په ډول (طريقه) ؤ، «ملائكة الله» چه وروسته له بحثه او تمحيصه او صريح امتحانه د (آدم) پر علمي فضيلتونو او روحاني كمالاتو مطلع شوى وى، ځنگه يې چه د الله تعالىٰ حكم واوريد، گردې (تولې) په تعظيمي سجده ولويدې، او په دغه صورت سره يې د «خليفة الله» په مخ كښې د خپل (الله) سره كامله وفا شعارى او اطاعت ثابت كړ او لعين ابليس چه نارى الاصل جنى ؤ مگر د ډير عبادت او نورو لامله (له وجې) د ملائكو په ډله كښې شامل كړى شوى ؤ، بالاخر د خپل اصل په لورى وگرځيد، او د ده نظر د (آدم) له مادى جوړښت څخه د ﴿ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِي ﴾ تر سر او راز پورى تجاوزونه كړى شو، نو ځكه يې د حضرت الٰهى د صريح حكم په مقابل كښې د ﴿ أَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ خَلَقْتَنِي مِن نَّارٍ وَخَلَقْتَهُ مِن طِينٍ ﴾ دعوى وكړه د دې په پاى (اخر) كښې ئې اباء او استكبار او د صريح قاطع نص ترديد يوازى پخپلى رأيى او هوىٰ او هوس سره وكړ، او له الله تعالىٰ سره د بحث او مناظرى د ارادى او تصميم لامله (له وجې) د هميش لپاره د قربت له مرتبې څخنى ښكته ولويد او د الله جل جلاله له رحمته ډير لرى وغورځيد، فى الحقيقت پر هغه شي چه شيطان ډير فخر او وياړ كاوه، هغه د ده خلقت من النار ؤ، او هم دغه خبره د ده د ابدى هلاكت سبب شوه.

د اور خاصه خفت، حدت، سرعت، طيش، علو او افساد دى، خلاف له خاورى چه په مزاج كښې يې استقلال، متانت، تواضع، حلم او ثبات شته، ابليس چه نارى الاصل ؤ د سجدې د حكم له آوريدلو څخه د اور تكه سره لمبه شو، او په رأى قائمولو كښې ئې تلوار او جلتى وكړه او په پاى (اخر) كښې د سرعت، تكبر او تعالىٰ له لارى د رخې (كينې) او حسد په اور كښې ولويد چه د هغه له سببه د دوزخ په اور كښې هم نسكور شو، د ده په خلاف كله چه له آدم عليه السلام څخه غلطى صادره شوه، نو دغه خاورين عنصر ته الله تعالىٰ په خپل فضل او كرم سره د عاجزى، انكسار، انقياد، استكانت او استغفار لار ښوونه وكړه، لكه چه د ده استقامت او انابت د ﴿ ثُمَّ اجْتَبَاهُ رَبُّهُ فَتَابَ عَلَيْهِ وَهَدَىٰ ﴾ نتيجه پيدا كړه، نو ځكه ويل كيږى چه لعين ابليس د خپلى مادى او عنصر له لحاظه هم د خپل تفضيل او لويى په ادعا كښې وغوليد، لكه چه «حافظ شمس الدين ابن القيم رحمة الله عليه په «بدائع الفوائد» كښې په (١٥) وجوهو سره د خاورو افضليت پر اور باندى ثابت كړى دى ومن شاء فليراجعه.

﴿ فَمَا يَكُونُ لَكَ أَن تَتَكَبَّرَ فِيهَا ﴾ الآية - نو نه دى لائق تاته اى ابليسه! دا كار چه تكبر لوئى

نافرمانی وکړی په دی ځای کښې نو ووځه تری بیشکه چه ته ئې له ذلیلانو سپک شویو له جهته د کبر) یعنی په جنت یا پر آسمانونو باندی د الله تعالیٰ هغه مخلوق اوسیدلی شی، چه د ده پوره مطیع او فرمانبردار وی، د نافرمانانو او متکبرانو ځای هلته نشته او دوی هلته له سره نشی اوسیدلی. په هر حال لعین ابلیس له هغه مقامه چه د ډیر عبادت او نورو لامله (له وجې) تر اوسه پوری پکښې فائز ؤ، د خپل تکبر او لویی له سببه لاندی وغورځاوه شو.

**تنبیه :** د ابلیس تر یوی اوږدی مودی پوری د پرښتو په دله کښې د شاملیدلو څخه دی خبری ته تنبیه ده چه الله تعالیٰ په مکلفینو کښې د هیڅا فطرت حتیٰ د شیطان هم داسی نه دی جوړ کړی چه هغه خامخا د بدی په لوری تللو ته مجبور او مضطر شی، بلکه خورا (ډیر) لوی خبیث موجود هم د خپل اصلی فطرت په اعتبار د دی صلاحیت لری چه پخپل کسب او اختیار سره په نیکی او پرهیزګاری کښې انتهائی ترقی وکړی تر دی چه د ملائکو په دله کښې هم داخل شی.

---

قَالَ أَنظِرْنِىٓ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿١٤﴾ قَالَ إِنَّكَ مِنَ ٱلْمُنظَرِينَ ﴿١٥﴾

---

وویل (ابلیس چه ای الله!) وګوره (مهلت راکړه) ماته (او مه مې وژنه) تر هغی ورځی (قیامت) پوری چه مخلوق بیرته ژوندی کاوه شی (او له خپلو قبرونو پاڅاوه شی)!. وویل (الله) بیشکه ته له کتلو (مهلت ورکړو) شوو څخنی ئې (تر اولی نفخی پوری).

---

**تفسیر :** یعنی څرنګه چه تا داسی غوښتنه وکړه نو وپوهیږه چه دغه خبره لا له پخوا څخه په الٰهی علم کښې موجوده وه چه تاته به مهلت درکړی شی کله چه د الله تعالیٰ حکمت مقتضی شو چه خپل کمالی صفات او مالک الملکوتی (شهنشاهی) عظمت او جبروت ښکاره کړی نو دغه عالم ئې پیدا کړ، ﴿ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ وَمِنَ الْأَرْضِ مِثْلَهُنَّ يَتَنَزَّلُ الْأَمْرُ بَيْنَهُنَّ لِتَعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ وَأَنَّ اللَّهَ قَدْ أَحَاطَ بِكُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا ﴾ ، (۲۸) جزء د الطلاق ۱۲ آیت ۲ رکوع) یعنی د ځمکی او آسمان تخلیق او د دغو ګردو (تولو) له نظم او نسق څخه دغه مقصود دی چه د الله تعالیٰ کامل قدرت او د محیط علم او د نورو صفاتو معرفت خلقو ته حاصل شی هم دغه الٰهی معرفت دی چه ﴿ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴾ له آیت څخه د ځینو اسلافو د تفسیر سره سم په عبادت تعبیر کړی شوی دی. او ښکاره ده چه د عالم د تخلیق دغه غرض هلته په ډیر کامله وجه سره پوره کیدی شی چه په عالم کښې مطیع او وفادار، باغی او مجرم هر قسم مخلوقات موجود وی او هم «اعداءالله» پوره زور او قدرت ولری، او د دوی د فطری اختیار او قوت د ګردو (تولو) وسائلو په استعمال کښې تر آخره حده پوری خپلواک (خپل اختیار) وی او کافی مهلت او آزادی هم ولری او د کار په اختتام کښې د الله تعالیٰ لښکر غالب او بریالی (بامراده) شی او دښمن پخپلی سزا او هیداد ورسیږی او له امتحانه

وروسته آخرنی بری او کامیابی د الله تعالیٰ د دوستانو په برخه شی، غیر له دی نه د گردو (تولو) کمالی صفاتو د اظهار بل کوم صورت نشته، نو خیر او شر او د خیر او شر د منبع پیدا کول پر هم دغه حکمت بنا دی چه د عالم د تخلیق غرض یعنی د کمالی صفاتو اظهار دی او هغه بی له دغه له سره نشی پوره کیدی، د ﴿ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ ٱلنَّاسَ أُمَّةً وَٰحِدَةً وَلَا يَزَالُونَ مُخْتَلِفِينَ إِلَّا مَن رَّحِمَ رَبُّكَ وَلِذَٰلِكَ خَلَقَهُمْ ﴾ (۱۲ جزء د هود ۱۱۸، ۱۱۹ آیت، ۱۰ رکوع) نو ځکه ضروری شوه چه لوی دښمن لعین ابلیس ته (چه د شرونو منبع دی) پوره مهلت ورکړ شی، چه د قیامت تر ورځی پوری خپلی گردی (تولی) قواوی او وسیلی همغسی ئی چه زړه غواړی استعمال کړی، لیکن دا خبره ښکاره ده چه په سمه لاره او مستقیم دول (طریقه) د هغه قادر مطلق او محیط کل مقابله ممکنه نه وه، نو د دی لامله (له وجی) ضروری شوه چه د الله تعالیٰ له لوری د نیابت او خلافت په دول (طریقه) یو داسی مخلوق په مقابله کښی ودراوه شی چه له هغه سره لعین ابلیس په آزادی سره جنگ وکړی شی، او د زور آزمایلو ښه موقع په لاس ورشی، ﴿ وَٱسْتَفْزِزْ مَنِ ٱسْتَطَعْتَ مِنْهُم بِصَوْتِكَ وَأَجْلِبْ عَلَيْهِم بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ وَشَارِكْهُمْ فِى ٱلْأَمْوَٰلِ وَٱلْأَوْلَٰدِ وَعِدْهُمْ ۚ وَمَا يَعِدُهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ إِلَّا غُرُورًا ﴾ (۱۵ جزء د «بنی اسرائیل» ٦٤ آیت ۷ رکوع) او تر هغه پوری چه دغه مخلوق د نیابت حق او د خلافت وظیفه ادا کوی د الله تعالیٰ خاص لښکر (ملائک) د هغوی مرستی (مدد) ته ورسیږی او هر کله چه انسانان له ضعف او قلت سره د پاک الله په فضل او کرم او رحمت د کار په انجام کښی د دښمنانو په مقابله کښی مظفر او منصور وگرځاوه شی، بیا نو ښه وپوهیږئ! چه دغه ځمکه د ابلیس او د آدم علیه السلام د جنگ میدان دی او څرنگه چه پوره او ښه مقابله هلته کیدی شی چه د دواړو حریفانو په لاسونو کښی پوره قوت وی او یو له بله ویره او اندیښنه ولری نو ځکه تکویناً داسی دوه صورتونه وړاندی شول چه له هغو څخنی د هر یوه په زړه کښی د بل په نسبت دښمنی پرته وی ابلیس آدم علیه السلام ته د سجدی نه کولو لامله (له وجی) لاندی ولوید او آدم علیه السلام د ابلیس د وسوسی آچولو له سببه له جنته ووت د داسی واقعاتو لامله (له وجی) د هر یوه په زړه کښی د بل د عداوت ریښی ځای ونیو او د جنگ او جنجال ډگر تود شو «والحرب سجال وانما العبرة للخواتیم.»

---

قَالَ فَبِمَآ أَغْوَيْتَنِى لَأَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَٰطَكَ ٱلْمُسْتَقِيمَ ﴿١٦﴾

---

وویل (ابلیس) نو قسم دی په گمراه کولو ستا ما لره (په سبب د آدم) چه خامخا به کینم زه هرومرو (خامخا) دوی ته (یعنی انسانانو ته د ښویولو لامله (له وجی)) په لاره ستا کښی (اسلام) چه سمه صافه ده.

---

**تفسیر** : یعنی د غلو په شان به د دوی په ایمان باندی داړی غورځوم ځکه چه د دوی لامله (له

وجی) زه دغی بدی ورځی سره مخامخ شوی یم.

ثُمَّ لَاٰتِیَنَّهُمْ مِّنْۢ بَیْنِ اَیْدِیْهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ اَیْمَانِهِمْ وَعَنْ شَمَآئِلِهِمْ ۗ وَلَا تَجِدُ اَكْثَرَهُمْ شٰكِرِیْنَ ﴿١٧﴾

بیا خامخا راځم زه هرومرو (خامخا) دوی ته (په هر وخت) له وړاندی د دوی او له وروسته د دوی او له ښیو (طرفو) د دوی او له کینو (طرفو) د دوی او نه به مومی ته اکثر د دوی شکر ایستونکی (مؤمنان).

**تفسیر :** یعنی له هر لوری به پر دوی باندی یرغلونه (حملی) کوم، د څلورو جهاتو ذکر د جهاتو د تعمیم په لوری اشاره ده،

﴿ وَلَا تَجِدُ اَكْثَرَهُمْ شٰكِرِیْنَ ﴾ او نه به مومی ته اکثر د دوی شکر ایستونکی مؤمنان دا د لعین ابلیس اټکل او تخمین ؤ چه سم وخوت، ﴿ وَلَقَدْ صَدَّقَ عَلَیْهِمْ اِبْلِیْسُ ظَنَّهٗ فَاتَّبَعُوْهُ اِلَّا فَرِیْقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴾ (٢٢) جزء د «السبا» (٢٠) آیت (٢) رکوع).

قَالَ اخْرُجْ مِنْهَا مَذْءُوْمًا مَّدْحُوْرًا ؕ لَمَنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكُمْ اَجْمَعِیْنَ ﴿١٨﴾

وویل (الله ای ابلیسه) ووځه له دی ځایه په دغسی حال کښی چه بدحال غمجن کړی شوی مردود رټلی شوی (لری کړی شوی ئی له رحمته). (قسم دی) خامخا هر څوک چه متابعت وکړی ستا له دغو (انسانانو) خامخا ډک به کړم هرومرو (خامخا) جهنم (دوزخ) له تاسی (له تابعانو ستا او له تا له) تولو.

**تفسیر :** یعنی زیاتره انسانان به ناشکره وی نو دوی به مونږ ته څه زیان ورسوی؟ په آخر کښی همغو لږو وفادارانو لره بری، فلاح او کامیابی ور په برخه کیږی او د ناشکرانو کثرت به د دوزخ په برخه کیږی. ګواکی په دی ډول (طریقه) سره واضح کاوه شی چه «جنود الشیطان» له دومره کثرت سره هم د «خلیفة الله» لږ لښکر نشی مغلوب او مقهورولی.

وَيٰٓـَٔادَمُ اسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ فَكُلَا مِنْ حَيْثُ شِئْتُمَا وَلَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ الظّٰلِمِينَ ﴿١٩﴾

او (وویل الله) ای آدمه اوسه ته او (اوسی دی) ښځه ستا «حوا» په جنت کښې نو خورئ تاسی دواړه له هر ځایه (او هر شی ځنی) چه خوښه مو وشی او مه نژدی کیږئ تاسی دواړه دی ونی ته (په قصد د خوراک او که له دی جنسه وخورئ) نو شئ به تاسی دواړه له ظالمانو (په خپلو ځانونو).

**تفسیر** : یعنی آدم علیه السلام او حوا رضی الله تعالیٰ عنها ته اجازه وه چه بی له هیڅ ممانعته هر څه چه د دوی زړونه غواړی ودی خوری او او ودی چښی پرته (علاوه) له یوی معینی ونی څخه چه د هغی خواړه د جنتی ژوندون او استعداد سره مناسب نه وو نو ځکه ئی وویل چه هغی ته مه نژدی کیږئ! که نه نقصان به دروررسیږی.

زما په فکر کښې دلته د ﴿ فَتَكُونَا مِنَ الظّٰلِمِينَ ﴾ ترجمه داسی وکړه شی دیر به ښه او موزونه وی: «بیا به شئ تاسی له زیان موندونکو ځنی» ځکه چه «ظلم» د نقصان، زیان، کمی او لندون په معنی هم راځی، لکه چه ﴿ وَلَمْ تَظْلِمْ مِنْهُ شَيْـًٔا ﴾ ۱۵ جزء د «الکهف» په (۳۳) آیت (٥) رکوع کښې په هم دی معنی راغلی دی.

فَوَسْوَسَ لَهُمَا الشَّيْطٰنُ لِيُبْدِيَ لَهُمَا مَا وُۥرِيَ عَنْهُمَا مِن سَوْءٰتِهِمَا وَقَالَ مَا نَهٰىكُمَا رَبُّكُمَا عَنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ إِلَّآ أَن تَكُونَا مَلَكَيْنِ أَوْ تَكُونَا مِنَ الْخٰلِدِينَ ﴿٢٠﴾ وَقَاسَمَهُمَآ إِنِّي لَكُمَا لَمِنَ النّٰصِحِينَ ﴿٢١﴾ فَدَلّٰىهُمَا بِغُرُورٍ ۚ فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا سَوْءٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِن وَرَقِ الْجَنَّةِ ۖ وَنَادٰىهُمَا رَبُّهُمَآ أَلَمْ أَنْهَكُمَا عَن تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ وَأَقُل لَّكُمَآ إِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمَا عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿٢٢﴾

نو وسوسه واچوله دوی دواړو ته شیطان دپاره د دی چه ښکاره کړی دوی دواړو ته هغه چه پټ کړی شوی دی له دی دواړو ځنی له غلیظه ؤ عورتونو د

دوی او وویل (ابلیس دوی ته) نه یئ منع کړی تاسی رب ستاسی له (خوراک) د دی ونی څخنی مگر له دی جهته چه نه شئ تاسی دواړه پرښتی (په مرتبه یا په ښائست یا په بی پروائی له خوراکه) یا چه نشئ تاسی له تل پاتی کیدونکو (په جنت کښی). او سخت قسم یی وکړ دوی ته (په نامه د الله) چه بیشکه زه تاسی دواړو ته خامخا له «دوستانو» نصیحت کوونکو څخه یم پس راکوز کړل «ابلیس» دوی دواړه (له عالی مرتبی نه ښکته مرتبی ته او مائل ئی کړل خوارک ته له هغی ونی) په فریب (او په وسوسه په دی دروغ قسم سره) نو کله چه وڅکله دغو (دواړو میوه د دغی ممنوعی) ونی (نو) ښکاره شو دواړو ته غلیظه عورتونه د دوی او ولگیدل دواړه چه سره نښلولی دوی پر عورتونو خپلو باندی له پانو (د ونو) د جنت څخه (چه پټ کړی ځان خپل)، او نداء (غږ) وکړ دوی ته رب د دوی (داسی) چه آیا ما نه وئ منع کړی تاسی له «خوراکه د» دغی ونی څخه او (نه ؤ) ویلی ما تاسی ته «چه پام وکړئ پوه شئ» چه بیشکه شیطان تاسی دواړو ته دښمن دی ښکاره (بلکه منع کړی مو وئ او ویلی مو وو تاسی ته!)

---

**تفسیر** : یعنی آدم او حواء علیهما السلام د شیطان له قسمونو څخه متاثر شول او ویی ویل چه د پاک الله په نامه به ولی په دروغو جرئت وکړی شی؟ ښائی چه دوی به داسی گڼلی وی چه په رښتیا سره مونږ به د دی ونی په خوړلو ملائک گرځو یا به له سره نه فنا کیږو او د الله تعالیٰ د هغی نهی چه فرمایلی ئی وه تعلیل یا تاویل به یی کړی وی، لیکن غالباً د ﴿ فَتَكُونَا مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴾ او ﴿ إِنَّ هٰذَا عَدُوٌّ لَّكَ وَلِزَوْجِكَ فَلَا يُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ الْجَنَّةِ فَتَشْقٰى ﴾ او نور به تری هیر شوی وی او دا به ئی هم په خیال نه وی گرځیدلی کله چه دی د ملائکو مسجود گرځیدلی دی نو بیا پرښته کیدلو ته څه ضرورت پاتی کیږی ﴿ فَنَسِيَ وَلَمْ نَجِدْ لَهٗ عَزْمًا ﴾ (۱٦) جزء د «طٰهٰ» د سورت (۱۱۵) آیت (٦) رکوع) ښکاره ده چه امر او نهی کله خو تشریعاً وی او کله شفقتاً او دا داسی مثال لری لکه چه د اور گادی سفر بی تکته ممنوع دی او دا قانونی حیثیت لری چه د اور گادی د شرکت په حقوقو تاثیر آچوی او د اور گادی په کوتو کښی داسی کتباً اعلان کیږی: (لاړی مه توکوئ چه ورڅخه مرض پیدا کیږی) څنگه چه د مریضی له تعلیل څخه څرگندیږی دغه منع د شفقت له مخی ده. هم داسی بلا شبه د الله تعالیٰ اوامر او نواهی هم ځینی تشریعی دی چه له هغو څخه مخالفت کوونکی قانوناً مجرم گڼلی کیږی، او ارتکاب یی له هغو حقوقو څخه منافی دی چه ساتنه یی د تشریع منشا ده. بل هغه اوامر او نواصی دی چی د هغوی منشا تشریع نه ده او یواځی شفقت او زړه سوی دی. لکه چه په نبوی طب او نورو کښی ډیرو احادیثو تصریح فرمایلی ده ښایی چه آدم علیه السلام هم د «اکل الشجره» ممانعت ، د شفقت نهی گڼلی وی، نو ځکه به یی د شیطان له وسوسی اچولو څخه

وروسته د هغی مخالفت دومره زیات شی نه وی ګڼلی خو څرنګه چه د انبیاؤ علیهم السلام ډیر لږ ښوییدل هم د دوی د تقرب الی الله له لحاظه عظیم او زیات شمیرل کیږی، نو ځکه د خپلی غلطی د ظاهری نقصان ګاللو (تیرولو) څخه برسیره تر یوی اوږدی مودی پوری په توبی او استغفار او په ژړا، واویلا کښی مشغول ؤ، بالاخره د هم دی انابت په سبب د ﴿ ثُمَّ اجْتَبَاهُ رَبُّهُ فَتَابَ عَلَيْهِ وَهَدَىٰ ﴾ نتیجی ته ورسیده.

(ؤ آدم د سترګو تور له انوارو د قدیم
چه ویښته لویږی په سترګو ښکاری غر غوندی عظیم)

﴿ فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ ﴾ الآية - نو کله چه وڅکله دغو دواړو میوه د دغی ممنوعی ونی نو ښکاره شول دواړو ته غلیظه عورتونه د دوی.) یعنی د حکم له عدول څخه جنتی لباس له دوی څخه وویست شو، ځکه چه جنتی لباس په حقیقت کښی د ﴿ وَلِبَاسُ التَّقْوَىٰ ﴾ یو محسوس صورت ؤ نو د کوم ممنوع له ارتکابه په هره اندازه چه ﴿ وَلِبَاسُ التَّقْوَىٰ ﴾ خیری شوی وی. په همغه اندازه به جنتی له لباسه بی برخی کیږی، الغرض شیطان کوښښ وکړ چه آدم علیه السلام نافرمانی ته واړوی او په عصیان کښی ئی اخته او مبتلا کړی چه د جنت فاخره خلعت د مجازاتو په طریقه تری وایستل شی. دا زما خیال دی. لیکن شاه صاحب «نزع اللباس» د «اکل شجرة» د یوه طبیعی اثر په شان څرګند کړی او لیکلی ئی دی چه. «په جنت کښی د استنجاء او د شهوت حاجت نه ؤ، د دوی پر بدن هغه کالی (جامی) چه ؤ له سره نه بدلیدل، ځکه چه د هغو د ایستلو لپاره هیڅ یو حاجت او ضرورت نه ؤ، آدم او حواء علیهما السلام له خپلو اعضاؤ څخه واقف نه وو. کله چه دغه ګناه له دوی څخنی څرګنده شوه نو بشری لوازم دوی ته پیدا او له خپلو انسانی حوائجو څخه خبردار شول او خپل اعضاء ئی ولیدل.» ګواکی د دی ونی له خوراکه هغه پرده چه د دوی پر انسانی کمزوریو لویدلی وه پورته شوه د ﴿ سَوْءَةَ ﴾ په لغوی معنی ګانو کښی ډیر وسعت شته د قابیل او هابیل په قصه کښی ئی «سوأة اخیه» فرمایلی دی. په حدیث کښی «احدی سوأتک یا مقداد!» راغلی دی. تر اوسه د آدم علیه السلام په نظر کښی یوازی د ده سادګی او معصومیت ؤ او د ابلیس په نظر کښی یوازی د هغه خلقی کمزوری وه. لیکن د «**اکل الشجرة**» څخه وروسته آدم علیه السلام هغه خپله خلقی کمزوری په خپلو سترګو ولیده نو کله چه پس له دی غلطی څخه دوی توبه او انابت غوره کړ نو لعین ابلیس ته هم د دوی اعلیٰ کمال او انتهائی نجابت او شرافت ورښکاره شو. او ښه وپوهید چه دغه مخلوق سره له ښوئیدلو هم زما په پنجو کښی نه لویږی ﴿ إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ ﴾ ښائی په هم دی لحاظ په تورات کښی (د ابن قتیبه د معارف د کتاب خاوند له نقله سره سم) دغه ونه د «شجرة علم الخیر والشر» په نامه سره موسومه کړی شوی وی. والله اعلم

﴿ وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِن وَرَقِ الْجَنَّةِ ﴾ او ولګیدل دغه دواړه چه سره نښلول ئی پر

غلیظو عورتونو خپلو باندی له پانو د ونو د جنت څخه چه پټ کړی ځان خپل) یعنی بربند شول او له ډیر شرم او حیا ئی په پانو سره خپل بدن پټاوه. له دی نه معلومیږی. اګر که انسان د پیدا کیدلو په وخت کښی لوڅ لغړ وی مګر فطری حیا د دی خبری مانع ده چه همغسی لوڅ پوڅ پاتی شی.

قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَآ أَنفُسَنَا وَإِن لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَٰسِرِينَ ﴿٢٣﴾ قَالَ اهْبِطُوا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۖ وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَٰعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴿٢٤﴾

نو وویل دواړو (یعنی) آدم او حواء) ای ربه زمونږ ظلم کړی دی مونږ پر نفسونو (ځانونو) خپلو او که مغفرت ونه کړی ته مونږ ته او رحمت (مهربانی) ونه کړی ته پر مونږ نو خامخا شو به مونږ هرومرو (خامخا) له زیانکارانو. وفرمایل «الله» چه کوز شئ «له جنته» حال دا چه ځینی ستاسی ځینو نورو ته به دښمن یئ. او (مقرر دی) تاسی ته په ځمکه کښی ځای د هستوګنی او (اسباب) د نفع آخیستلو تر وخته (د مرګ) پوری.

**تفسیر** : د مفسرینو په نزد دا خطاب آدم او حواء علیهما السلام او لعین ابلیس ګردو (تولو) ته دی، ځکه اصلی عداوت آدم او ابلیس سره لری او د دوی د عداوت ډګر زمونږ دغه ځمکه ګرځولی شوی ده چه خلافت ئی آدم علیه السلام ته سپارلی شوی ؤ.

قَالَ فِيهَا تَحْيَوْنَ وَفِيهَا تَمُوتُونَ وَمِنْهَا تُخْرَجُونَ ﴿٢٥﴾

وفرمایل (الله) چه په دی ځمکه کښی به ژوندون کوئ تاسی او په هم دغی ځمکه کښی به مرئ تاسی (او خښیږئ) او له هم دغی ځمکی څخه به راایستل کیږئ تاسی (په قیامت کښی جزا ته)

**تفسیر** : یعنی عموماً ستاسی اصلی او معتاد مسکن هم دغه ځمکه ده. که د خرق عادت په دول (طریقه) کوم یو کله تر یوی معینی مودی له دی ځایه پورته کړی شی، لکه مسیح علیه السلام نو هغه له دغه آیت سره منافی نه دی. آیا کوم سړی د څو ورځو یا د څو ګړیو له مخی له ځمکی څخه جلا (جدا) او په کومه الوتکه کښی مسافرت وکړی یا همله پکښی مړ شی نو آیا هغه به

د ﴿ فِيهَا تَحْيَوْنَ وَفِيهَا تَمُوتُونَ ﴾ څخه مخالف وي؟ ځکه چه دی په دغه وخت کښې پر ځمکه نه دی. په بل ځای کښې داسې ارشاد دی چه ﴿ مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ ﴾ نو هغه سړی چه په ځمکه کښې مړ او په ځمکې کښې خښ نشي هغوی به څرنګه په ﴿ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ ﴾ کښې داخل شي؟ معلومه شوه چه داسې قسم قضايا د کليي په ډول (طريقه) نه دی استعمال شوي.

يٰبَنِيٓ اٰدَمَ قَدْ اَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُّوَارِيْ سَوْاٰتِكُمْ وَرِيْشًا ؕ وَلِبَاسُ التَّقْوٰى ۙ ذٰلِكَ خَيْرٌ ؕ ذٰلِكَ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ﴿٢٦﴾

ای ځامنو د آدم! په تحقيق نازل کړی (ليږلی) دی مونږ پر تاسی لباس «کالی» چه پټوی عورتونه ستاسی او «درليږلی مو دی لباس د ښايست او» د زينت کالی، او لباس (کالی) د تقوىٰ (چه خلاصی پری راځی له عذابه) دغه «لباس د تقوىٰ» خير «بهتر ډير غوره» دی (له نورو) دغه «راليږل د پوښاک» له آيتونو (علامو د رحمت فضل قدرت) د الله دی لپاره د دی چه دوی پند واخلی (غور وکړی او قدر د دی نعمت وپيژنی)

**تفسير** : له ﴿ اَنْزَلْنَا ﴾ څخنی مراد د مادی او نورو پيدا کيدل او د هغی د جوړولو د تدبير ښوول دی اګر که د ﴿ اَنْزَلْنَا ﴾ لفظ ډير ځلی په داسی ځايونو کښی ويل کيږی چه يو شی له پاسه ښکته خوا ته ليږل يا راوړل کيږی، مګر ډير ځلی له هغه څخنی دغه مکانی فوق او تحت نه وی مراد بلکه هغه مراديږی چه د مرتبی په اعتبار پورته وی. او په هغه شی چه د هغه له خوا ښکته کسانو ته ورکول کيږی د هم دغه لفظ اطلاق کاوه شی. لکه چه فرمايلی ئی دی ﴿ وَاَنْزَلَ لَكُمْ مِّنَ الْاَنْعَامِ ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ ﴾ يا ﴿ وَاَنْزَلْنَا الْحَدِيْدَ فِيْهِ بَاْسٌ شَدِيْدٌ ﴾

﴿ وَلِبَاسُ التَّقْوٰى ذٰلِكَ خَيْرٌ ﴾ او کالی د تقوىٰ چه دی دغه لباس التقوىٰ ډير غوره دی له نورو) يعنی برسيره په دی ظاهری لباس چه په هغه سره د بدن ستر او زينت حاصليږی او ځان پری پټيږی او ډول (طريقه) او سينګار پری کيږی يو معنوی لباس هم شته، چه عظيم الشان قرآن ئی ﴿ وَلِبَاسُ التَّقْوٰى ﴾ بولی او د باطنی زينت او ښايست وسيله ګرځی او په هغه سره د انسان هغه باطنی کمزوری د ظهور او فعليت درجه نه مومی چه په ده کښی ئی استعداد شته او د خفاء په پرده کښی دی. او د ظهور او فعليت په ډګر کښی نشی راتلی او هم دغه معنوی لباس دی چه قرآن کريم په ﴿ وَلِبَاسُ التَّقْوٰى ﴾ سره ياد کړی دی او د باطنی زينت، ښائست او سينګار ذريعه ګرځی بلکه که غور وکړی شی نو ظاهری بدنی لباس هم د هم دی باطنی لباس د تامين، تطهير او تنظيف لپاره شرعاً مطلوب دی. حضرت شاه صاحب ليکی چه: دښمن له تاسی څخنی د جنت

لباس وویست، بیا مونږ تاسی ته په دنیا کښې د لباس تدبیر دروښود، اوس همغه لباس واغوندئ! چه پکښې تقویٰ او پرهیز ګاری وی. یعنی نارینه دی وریښمین لباس نه آغوندی! او اوږده لمن دی نه لری! او هغه شیان چه ممنوع شوی دی هغه دی نه کوی او ښځه دی داسی ډیر نری لباس وانه غوندی چه بدن ئی تری ښکاره شی، او نه دی خپل ډول سینګار نورو ته ښکاروی.

﴿ذٰلِكَ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ﴾ دغه رالیږل د پوښاک له آیتونو علامو د فضل رحمت قدرت د الله دی لپاره د دی چه دوی پند واخلی غور وکړی او قدر د دی نعمت وپیژنی او پرهیز وکړی له صوری او معنوی بربنډ والی څخه) یعنی پر دغو دلائلو غور وکړئ! او د الله تعالیٰ د قوت او قدرت په انعام او اکرام باندی معترف او شکر ګذار اوسئ.

---

يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ لَا يَفْتِنَنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ كَمَآ اَخْرَجَ اَبَوَيْكُمْ مِّنَ الْجَنَّةِ يَنْزِعُ عَنْهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوْاٰتِهِمَا ۭ اِنَّهٗ يَرٰىكُمْ هُوَ وَقَبِيْلُهٗ مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ ۭ اِنَّا جَعَلْنَا الشَّيٰطِيْنَ اَوْلِيَاۗءَ لِلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٢٧﴾

---

ای ځامنو د آدم فریب دی در نه کړی تاسی ته شیطان لکه چه ایستلی یی دی مور او پلار ستاسی له جنته (په فریب سره) په دی حال چه ایسته ئی له دی دواړو لباس د دوی لپاره د دی چه وښیی دوی ته غلیظه عورتونه د دوی بیشکه دغه «شیطان» وینی تاسی (هم په خپله) دی او (هم قوم) لښکر د ده له هغی خوا چه نه ئی وینئ تاسی بیشکه مونږ ګرځولی مو دی شیطانان دوستان لپاره د هغو کسانو چه ایمان نه راوړی دوی.

---

**تفسیر :** د اخراج او نزع اضافت د سبب په لوری کړی شوی دی، یعنی له جنت څخنی د آدم او حواء علیهما السلام د بیلیدلو او د دوی نه د لباس ایستلو سبب هم دا شیطان شو، نو هوښیار اوسئ چه اوس تاسی تیر نه باسی! او د ده له مکرونو څخه تل خبردار اوسئ!.

﴿لِيُرِيَهُمَا سَوْاٰتِهِمَا ۭ اِنَّهٗ يَرٰىكُمْ﴾ الآیة - لپاره د دی چه وښیی دواړو ته غلیظه عورتونه د دوی، بیشکه وینی دغه شیطان تاسی هم پخپله دی او هم قوم لښکر د ده له هغی خوا چه نه ئی وینئ تاسئ،) یعنی هغه دښمن چه مونږ ته له داسی پټونی څخه ګوری، چه مونږ ئی له سره نه وینو نو د هغه حمله سخته خطرناکه او مدافعه ئی ډیره ګرانه ده. نو ځکه تاسی ته ښائی چه تل مستعد او بیدار اوسئ! د داسی دښمن علاج دا دی چه مونږ د داسی یوه ذات په پناه کښې ځای ونیسو چه دی هغه وینی او هغه دی نشی لیدی ﴿لَا تُدْرِكُهُ الْاَبْصَارُ ۡ وَهُوَ يُدْرِكُ الْاَبْصَارَ ۚ وَهُوَ اللَّطِيْفُ الْخَبِيْرُ﴾

**تنبیه :** د ﴿ إِنَّهُۥ يَرَىٰكُمۡ هُوَ وَقَبِيلُهُۥ مِنۡ حَيۡثُ لَا تَرَوۡنَهُمۡ ﴾ قضیه مطلقه ده دائمه نه ده، یعنی دیر ځلی داسی وی چه مونږ دوی نشو لیدلی، او دوی مونږ ته ګوری له دی وینا ځنی دا خبره نه لازمیږی چه په هیڅ یو وخت کښی به هیڅوک او په هیڅ صورت سره دوی نشی لیدلی، نو په دغه آیت سره د جن له رؤیته په کلی نفی باندی استدلال کول، قصور او لند لیدل دی.

﴿ إِنَّا جَعَلۡنَا ٱلشَّيَٰطِينَ ﴾ الآیة ـ بیشکه مونږ ګرځولی مو دی شیطانان دوستان لپاره د هغو کسانو چه ایمان نه راوړی،) یعنی کله چه دوی له خپلی بی ایمانی د شیطانانو رفاقت خپلو ځانونو ته غوره کړ، لکه چه وروسته له دی په (۸٦۱) مخ کښی راځی ﴿ إِنَّهُمُ ٱتَّخَذُواْ ٱلشَّيَٰطِينَ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَيَحۡسَبُونَ أَنَّهُم مُّهۡتَدُونَ ﴾ نو مونږ هم په دغه انتخاب کښی هیڅ مزاحمت ونه کړ، او هر چا چه دوی د خپل ځان ملګری ګرځولی وو همغه ور ملګری کړل شول.

---

وَإِذَا فَعَلُواْ فَٰحِشَةٗ قَالُواْ وَجَدۡنَا عَلَيۡهَآ ءَابَآءَنَا وَٱللَّهُ أَمَرَنَا بِهَاۗ قُلۡ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَأۡمُرُ بِٱلۡفَحۡشَآءِۖ أَتَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٢٨﴾

---

او کله چه وکړی دوی کوم فاحشه (ناکاره کار لکه شرک) نو وائی دوی موندلی دی مونږ پر دغه (ناکاره کار) پلرونه خپل او الله هم امر «حکم» کړی دی مونږ ته په (کولو د) دی سره، ووایه (ای محمده! دوی ته) چه بیشکه الله نه کوی امر (حکم) په فحشاء «ناکاره کارونو»، آیا وایئ «دروغ تړئ» تاسی پر الله باندی هغه شی چه نه پوهیږئ (پری) تاسی.

---

**تفسیر :** یعنی خراب او د بیحیایی کار، لکه د نارینه او ښځی بربند طواف کول چه د دی آیتونو شان نزول دی، او له هغه څخه سلیم عقل او صحیحه فطرت نفرت کوی (د الله قدوس) له شانه دا تصور دیر لری دی، چه د داسی شیانو تعلیم ورکړی د ده پاک ذات د پاکی او حیا منبع او سرچینه ده، دی به د ګندګی، چتلی او بیحیایی د کارونو حکم څرنګه ورکوی؟ اصلاً د بی حیایی او بد کاری معلمان هغه شیطانان دی، چه دوی د خپلو ځانونو رفیقان ګرځولی دی، وګورئ له ګردو (تولو) څخه پخوا ستاسی مور او پلار د هم دغه شیطان له لوری تیروتل، او لوڅ لغر وګرځیدل، مګر هغوی د شرم او حیاء لامله (له وجی) د ونو پانی پر خپلو ځانونو باندی تپلی نو څرګنده شوه چه بربندتیا د شیطان له خوا، او د تستر (د ځان پټولو) کوښښ ستاسی د پلار له خوا شوی دی. بیا په بربند طواف کولو کښی د خپلو پلرونو سند وړاندی کول څرنګه صحیح کیدی شی، او هم د حضرت شاه صاحب قول «تاسی واورید چه ستاسی لوی پلار د شیطان په چل او فریب تیروت نو بیا تاسی د خپلو پلرونو سندونه ولی وړاندی کوئ؟ دا

ځومره د بيحيايي خبره ده؟ هغه کار چه د شيطان په حکم سره کيږي، د هغه په نسبت ووايل شي چه دغه حکم مونږ ته پاک الله راکړی دی، العياذ بالله!»

قُلْ أَمَرَ رَبِّي بِالْقِسْطِ وَأَقِيمُوا وُجُوهَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَادْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ ۚ كَمَا بَدَأَكُمْ تَعُودُونَ ﴿٢٩﴾

ووايه (ای محمده! دوی ته) امر (حکم) کړی دی رب زما په قسط «عدل انصاف» سره «چه توحيد او ښه کارونه دی. نه په افراط نه په تفريط» او (بل الله حکم کړی دی) چه سم واړوئ «برابر کړئ» تاسی مخونه خپل «عبادت د الله ته» په نزد «د وخت» د هر لمانځه او بولئ (عبادت کوئ) تاسی د ده حال دا چه مطيع خالص کوونکی اوسئ ده ته دين «خپل له عجب او ريا او هر نقصان ځخه» لکه چه اول ځلی يی پيدا کړی يئ تاسی (له نشت نه) بيا به هم داسی پيدا شئ تاسی «پس له مرګه».

**تفسير** : په «روح المعانی» کښې دی «القسط علیٰ ما قال غير واحد ـ العدل، و هو الوسط من کل شئ ـ المتجافی عن طرفی الافراط والتفريط» د آيت حاصل داسی شو چه: الله تعالیٰ په هر کار کښې پر توسط او اعتدال د پاتی کيدلو، او له افراط او تفريط ځخه د ځان ژغورلو (بچ کولو) هدايت کوی، نو بيا به په څه شان سره د فواحشو او رذائلو حکم ورکوی؟.»

غالباً محقق شيخ الهند رحمة الله عليه «مسجد» ميمی مصدر ګڼلی او د (سجود) معنی ئی تری اخيستی ده تجوزاً ئی په لمانځه سره ترجمه کړی دی، او «وجوه» ئی په خپلی ظاهری معنی پريښی دی، يعنی د لمانځه د اداء کولو په وخت کښې خپل مخونه سم د کعبې شريفې په لوری وګرځوئ. مګر ځينی نور مفسرين له ﴿وَأَقِيمُوا وُجُوهَكُمْ﴾ ځخه داسی مطلب آخلی چه د الله تعالیٰ د عبادت په لوری تل په استقامت او له زړه متوجه اوسئ. د ابن کثير رحمة الله عليه په نزد د دی مطلب دا دی چه: پخپلو عبادتونو سم او مستقيم اوسئ! او له هغی سمی لاری ځنی چه د حضرت محمد عليه الصلوة والسلام ده مه کږيږئ! د عبادت مقبوليت پر دوه شيانو موقوف دی: (۱) چه خالص د الله تعالیٰ لپاره وی، چه وروسته ئی په ﴿وَادْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ﴾ سره يادونه کوی. (۲) چه له هغی مشروعی طريقی سره موافقه وی چه انبياء او مرسلينو عليهم الصلوة السلام تجويز کړی ده او دلته هغه په ﴿وَأَقِيمُوا وُجُوهَكُمْ﴾ سره ادا کړی شوی ده. په هر حال په دغه آيت کښې د شرعی احکامو د ګردو (تولو) هغو انواعو په لوری اشاره کړی شوی ده چه د بندګانو له معاملاتو سره متعلق دی او هغه تول تر «قسط» لاندی راغلل او هغه شيان چه په الله تعالیٰ پوری تعلق لری که «بدنی» وی نو په ﴿وَأَقِيمُوا وُجُوهَكُمْ﴾ کښې که «قلبی» وی نو په ﴿وَادْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ﴾

الدِّيْنَ ﴾ كښې مندرج دى.
﴿ كَمَا بَدَاَكُمْ تَعُوْدُوْنَ ﴾ لكه چه اول څلي ئى پيدا كړى يئ تاسى له نشت نه بيا به هم داسى پيدا شئ تاسى وروسته له مرګه) يعنى لكه چه په اول كښې الله جل جلاله ستاسى له پيدا كولو څخه عاجز نه ؤ هم داسى ستاسى له اعادى او بيا ژوندى كولو څخه هم عاجز نه دى او انسان د استقامت او اخلاص او اعتدال پر لارى تللو ته د دى لامله (له وجى) اړتيا (احتياج) او ضرورت لرى چه وروسته له مرګه بل ژوندون راتلونكى دى چه په هغه كښې د دى موجوده حيات نتائج ور وړاندى كيږى نو ښائى د هغه «بعث بعد الموت» فكر لا له اوسه وكړى شى! ﴿ وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ ﴾

---

فَرِيْقًا هَدٰى وَ فَرِيْقًا حَقَّ عَلَيْهِمُ الضَّلٰلَةُ ۭ اِنَّهُمُ اتَّخَذُوا الشَّيٰطِيْنَ اَوْلِيَاۗءَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ۝۳۰

---

يوى ډلى ته هدايت وكړ (الله په توفيق د ايمان سره او) هدايت ئى نه دى كړى بلى ډلى ته چه مقرره شوى ده پر دوى ګمراهي، بيشكه چه دوى نيولى دى شيطانان دوستان (خپل معبودان) بى له الله څخنى او ګمان كوى دوى چه بيشكه هم دوى هدايت موندونكى دى (سمى صافى لارى ته او واقع كښې داسى نه ده.)

---

**تفسير** : يعنى پر هغو باندى چه ګمراهي مقرره شوى ده هغوى هغه خلق دى چه پاك الله ئى پرى ايښى او شيطان ئى خپل دوست او رفيق ګرځولى دى چه د ده په خوله كوى او خبرو ته ئى غوږ ږدى او د تعجب ځاى دا دى چه سره د دى صريحى ګمراهي دوى داسى ګومان كوى چه مونږ پر سمى صافى لارى باندى روان يو او له مذهبى حيثيته كومه د عمل رويه چه مونږ اختيار كړى ده هغه ډيره مناسبه او درسته ده لكه چه په بل ځاى كښې يى فرمايلى دى ﴿ اَلَّذِيْنَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ يُحْسِنُوْنَ صُنْعًا ﴾ (١٦ جز د الكهف ١٠٤ آيت ١٢ ركوع).

**تنبيه** : د دى آيت له عمومه ظاهره شوه چه د «معاند كافر» په شان «مخطى كافر» هم چه د خپلى واقعى غلطى لامله (له وجى) باطل حق ګڼى په ﴿ وَفَرِيْقًا حَقَّ عَلَيْهِمُ الضَّلٰلَةُ ﴾ كښې داخل دى، كه دغه غلط فهمى د پوره فكر او غور نه كولو له وجى وى يا له دى سببه وى، چه اګر كه ده په ښكاره ډول (طريقه) سره خپل پوره قوت، غور او فكر چلولى دى خو په مقصد نه دى رسيدلى ځكه چه پر داسى صريحو حقائقو او واضحو دلائلو د فكر د نه رسيدلو څخنى دغه خبره څرګنده ده چه ده فى الحقيقت په استدلال او د خپل فكر په كار آچولو او استعمال كښې

تقصير کړی دی، ګواکې هغه شیان چه پری ایمان راوړل د نجات مدار دی دومره روښانه او واضحه دی چه له هغو څخه انکار غیر له عناده او د فکر او تامل له قصوره بل هیڅ شی نه دی. په هر حال شرعی کفر داسی زهر دی چه که په قصد یا په سهوه په هر ډول (طریقه) سره چه وخوړل شی د انسان د وژلو لپاره کافی دی زمونږ د «اهل السنة والجماعة» مذهب هم دا دی او په «روح المعانی» کښی چه د ځینو د څه اختلافاتو نقل پر دغی مسئلی باندی کړی شوی دی له هغو څخنی مراد «جاحظ» او «عنبری» دی، چه په «اهل السنة والجماعة» کښی نه دی داخل بلکه سره له دی چه معتزله ګڼل کیږی، په خپله معتزله هم د دوی په اسلام کښی خبری کوی نو ځکه د «روح المعانی» خاوند د دوی مذهب د نقلولو څخه وروسته داسی لیکلی دی: «ولله تعالیٰ الحجة البالغة والتزام ان کل کافر معاند بعد البعثة و ظهور امر الحق کنار علیٰ علم».

يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ خُذُواْ زِينَتَكُمۡ عِندَ كُلِّ مَسۡجِدٖ وَكُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ وَلَا تُسۡرِفُوٓاْۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُسۡرِفِينَ ﴿٣١﴾

ای ځامنو د آدمه! واخلئ تاسی زینت (ښائست) خپل په نزد (د وخت) د هر لمانځه (په آغوستلو د پاکو کالیو (جامو) د عورت ستر) او خورئ او چښئ او اسراف «بی ځایه خرڅ» مه کوئ تاسی، بیشکه چه الله نه خوښوی مسرفان (بی ځایه خرڅ کوونکی)

**تفسیر :** دغه آیتونه د هغو کسانو په تردید کښی نازل شوی دی چه د کعبة الله طواف به ئی په بربنده کاوه او هغه ئی لوی قربت، ثواب او پرهیزګاری ګڼله او د اهل جاهلیت ځینو کسانو د حج په ورځو کښی د سد رمق څخنی زیات شی نه خوړ او د غوړیو او نورو دسوماتو استعمال به ئی پریښووده، ځینو به د وزی د غوښی او شودو له استعماله ځان ساته نو دغه ګرد (تول) شیان ئی راوښوده چه دا شیان له سره د نیکی او تقویٰ خبری نه دی. د الله جل جلاله ورکړی شوی لباس (چه په هغه سره ستاسی د بدن تستر (پټول) او تزین (ښائست په عمل راځی) د عبادت په وخت کښی د نورو وختونو په نسبت لا زیات قابل الاستعمال دی، تر څو بنده د خپل الله جل جلاله په دربار کښی د ده د ګردو (تولو) نعمتونو له اثر او نښو سره حاضر شی او هر هغه شیان چه الله تعالیٰ د خوراک او پوښاک لپاره درکړی دی له هغو څخنی متمتع شئ! په دی شرط سره چه اسراف پکښی ونه کړئ! د اسراف معنی له حده تجاوز، او له میچه تیریدل دی. او هغه څو ډوله دی: لکه چه حلال حرام وګڼی یا له حلالو تیر له حرامو هم متمتع شی، یا په خوړلو او چښلو کښی له حرص او بی تمیزی څخه کار واخلی، او له اندازی ئی زیات وخوری، یا ئی بی له اشتهاء وخوری، یا ئی ناوخته وخوری یا دومره لږ وخوری چه د جسمانی صحت او قوت

عمل لپاره کافي نه وي، يا د صحت مضر شيان استعمال کړي او غير ذلک. د اسراف لفظ دغو ګردو (ټولو) امورو لره شامليدی شي، بيځايه خرڅونه هم په اسراف کښې شامل دی. د هم دی تعميم په لحاظ ځينو اسلافو فرمايلي دی (جمع الله الطب کله فی نصف آية) الله تعالیٰ ګرد (ټول) طب په نيم آيت کښې سره ټول کړی دی.)

قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِيْنَةَ اللّٰهِ الَّتِيْٓ اَخْرَجَ لِعِبَادِهٖ وَالطَّيِّبٰتِ مِنَ الرِّزْقِ ؕ قُلْ هِيَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا خَالِصَةً يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۳۲﴾

ووايه (ای محمده! دوی ته) چه چا حرام کړی دی زينت د الله هغه چه ايستلی ئی دی دپاره د بندګانو خپلو؟ او (چا حرام کړی دی) پاک لذيذ شيان له رزقه ځنی (چه د خوړلو او څښلو دی؟ يعنی دا يو هم نه دی حرام)، ووايه (ای محمده! دوی ته) چه دغه (زينت او طيبات او نور نعمتونه اصلاً) لپاره د هغو کسانو دی چه ايمان يی راوړی دی (او تبعاً دی کفارو ته) په دی ژوندون لږ خسيس کښې حال دا چه خاص (مؤمنانو لره) دی په ورځ د قيامت کښې هم دا رنګه ( لکه دا پاس تفصيل) په تفصيل بيانوو مونږ آيتونه له پاره د (هغه) قوم چه پوهيږی «پری».

**تفسير**: يعنی ای محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم ! ته دوی ته ووايه چه چا حرام کړی دی هغه زينت د الله جل جلاله چه له جامو وی که له نورو وی چه ايستلی دی الله تعالیٰ دپاره د بندګانو خپلو له نباتاتو لکه پنبه او کتان، او له حيواناتو لکه وريښم يا وړئ او له کانونو لکه ځغره. او بل پاکيزه شيان له اقسامو د روزی که د خوراک وی لکه غوښی، وازدی، غلی دانی يا د څښلو (څکلو) وی لکه اوبه، شوده، يعنی دا يو هم نه دی حرام، ووايه ای ځما رسوله! دغو ته چه دغه زينت او طيبات او نور نعمتونه خاص دپاره د مؤمنانو دی، يعنی هم دوی ته پيدا شوی دی اما په دنيا کښې کفار هم تبعاً ورسره شريک دی ولی دائمی او ابدی نعمتونه خاص مؤمنانو ته دی بی شريکه په عقبا کښې هم داسی چه مونږ دغه مفصل حکم بيان کړ مفصل بيانوو باقی ټول احکام د دين بالخاصه د حلال او حرام احکام دپاره د هغه قوم چه پوهيږی او فهمولی شی. د دنيا ګرد (ټول) شيان ځکه پيدا شوی دی چه انسانان له هغو څخه په شرعی او په مناسبه طريقه ګټه (فائده) واخلی او د خالق تعالیٰ جل و علا شانه په عبادت او وفاداری او شکر ګذاری کښې مشغول اوسی، په دغه اعتبار د دنيا ټول نعمتونه اصلاً د مؤمنانو او مطيعانو د استفادی لپاره

پیدا شوی دی هوا کافران هم د دغو شیانو له استعمال څخه نه دی ممنوع شوی، دوی هم د خپلو دنیوی اعمالو او تدابیرو په اثر له هغو څخنی مفاد حاصلولی شی. بلکه څه وخت چه د ایمان خاوندان په ایمانی قوت او تقویٰ کښی کمزوری شی، نو دغه غاصبان په خپلو عملی هلو ځلو کښی ظاهراً ډیر بریالی او کامیاب په نظر راځی چه ځینی له هغو څخنی دی د کفارو د فانی اعمالو ثمره وګڼله شی او څه نور دی یی د مؤمنانو په حق کښی تنبیه او توبیخ.

﴿مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْحَيَوٰةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيْهِمْ أَعْمَالَهُمْ فِيهَا وَهُمْ فِيهَا لَا يُبْخَسُونَ
أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَيْسَ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ إِلَّا النَّارُ ۖ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوا فِيهَا وَبَاطِلٌ مَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾

(۱۲ جزء د هود ۱۵ او ۱٦ آیت ۲ رکوع). پاتی شول د آخرت نعمتونه هغه خالص د اهل الایمان په برخه دی. ځینی عالمان د ﴿خَالِصَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾ معنی داسی کوی چه «دنیوی نعمتونه خالص نه دی، ځکه چه له هغو سره ډیر غم او فکر او تکالیف مومی، او د آخرت نعمتونه به له هر راز (قسم) کدورتونو څخنی پاک وی او له ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه څخه په «در منثور.» کښی د دی آیت داسی معنی نقل شوی ده چه دنیوی نعمتونه په داسی شان سره چه د آخرت وبال وګرځی یواځی د مؤمنانو لپاره دی، او د کفارو په حق کښی د دی جهان عیش او عشرت او تنعم د کفر او حق نه پیژندلو له وجی عذاب او وبال ګرځی.

---

قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَالْإِثْمَ وَالْبَغْيَ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَأَنْ تُشْرِكُوا بِاللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَانًا وَأَنْ تَقُولُوا عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿۳۳﴾

---

ووایه (ای محمده! دوی ته) بیشکه هم دا خبره ده چه حرام کړی دی رب زما فواحش (کبیره ګناهونه چه موجب د لوی عذاب دی) هغه چه ظاهر وی له هغو څخه او هغه چه باطن وی او (حرام کړی ئی دی) ګناه «صغیره چه حد نه لری» او (حرام کړی ئی دی) ظلم په ناحقه سره (بل دا چه) شریک ونیسئ تاسی په الله پوری، هغه شی چه نه دی نازل کړی (لیږلی الله) په (شریکولو د) هغه باندی هیڅ برهان (علمی سند) او (بل دا ئی حرام کړی دی چه) ووایی تاسی پر الله هغه خبری چه تاسی نه پوهیږی «پری»

---

**تفسیر :** له «اثم» څخنی عامه ګناه مراده ده. او ځینی مخصوصی ګناوی د دی مقام په مناسبت یا د اهمیت له سببه بیان فرمایلی شوی دی. او د ځینو په نزد (اثم) هغه ګناه ده چه د هغی تعلق د ګناه کوونکو څخه ماسواء نورو سره نه وی، والله اعلم. دروغ تړل په الله جل جلاله دا دی

چه په تحلیل او تحریم او په الحاد د صفات الله او نورو کښې داسې خبرې له خپله ځانه جوړې کړې چه بیخې شرعي اساس ونه لرې او بیا د هغو نسبت الله تعالیٰ ته وکړی لکه چه د فحشاؤ په متعلق به کفارو وویل «والله امرنا بها»

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ ۖ فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً ۖ وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٣٤﴾

او هر یوه امت ته یو اجل (نیټه) شته (د مرګ یا د عذاب که ایمان رانه وړی) نو کله چه راشي اجل (نیټه) د دوی نه به وروستې کیږی دوی (ترې) یو ساعت او نه ړومبی کیږی دوی (ترې).

**تفسیر :** په ظاهره سره دا شبهه کیږی. کله چه د وعدې وخت ورسیږی نو تأخیر یې عقلاً ممکن ؤ نو ځکه د هغه نفي ضروری شوه مګر تقدیم ئې خو عقلاً هم ممکن نه دی نو د هغه له نفي څخه څه فائده ده؟ د دی شبهې له سببه مفسرینو د ﴿وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ﴾ عطف په ﴿فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ﴾ منلی دی. او ځینې د ﴿فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ﴾ څخه (قرب) او نژدیوالی) مرادوی. زما په نزد دغو تکلفاتو ته هیڅ حاجت نشته، په عمومی محاوراتو کښې د یوه شي د تاکید ثبوت او قوت لپاره چه په مقابل کښې ئې دوه خواوی وی ډیر ځله د هغې خوا نفي خو مقصوداً کیږی چه محتمل الثبوت وی، او د بلې خوا نفي چه لا له پخوا غیر محتمل وی یوائې د مبالغې، تاکید او تحسین الکلام په ډول (طریقه) استطراداً ذکر کیږی. لکه چه یو خریدار له دکاندار ځنې د یوه شي د قیمت د معلومولو لپاره پخپلو خبرو کښې وائې چه د هغه شي په قیمت کښې هیڅ زیادت او کمی او لاندی او باندی نشته؟ او هم دغه ئې قیمت دی! دکاندار ورته وائې هو! خانه! په دغه ویلې شوی قیمت کښې هیڅ زیادت او کمی او لاندی او باندی نشته! او هم دغه قیمت ئې واجبی او تاکلی (مقرر) شوی دی په دغو دواړو محاورو کښې مقصود بالذات (کمی) دی، مګر د (زیادت) لفظ یوائې د قیمت د تعیین او تاکید او مبالغې لپاره استطراداً ذکر کړی شوی دی. دلته هم د دی کلام څخه اصلی غرض هم دا دی چه د الله تعالیٰ وعده هر کله چه ورسیږی بیا تأخیر پکښې نشته، او له سره وروسته کیدونکی نه ده او یوه شیبه هم په هغه کښې د تقدیم او تأخیر امکان واقع کیدونکی نه دی دلته د «تأخیر» نفي مقصود ده، ځکه چه (تقدیم) لا له پخوا څخه ظاهراً لانتفاء ؤ د هغه انتفاء یوائې د وعدې په ټینګوالی د زور آچولو یو اسلوب دی یعني پر الله تعالیٰ دروغ تړونکی او د هغه د لوری د حرامو حلال کوونکی او نور متمردین دی د الله تعالیٰ پر دغه تأخیر، مهلت او حلم نه مغروریږی. او نه دی بی فکره اوسی، ځکه چه د هر امت او د هر فرد لپاره د الله تعالیٰ له جانبه یوه تاکلی (مقرره) موده مقرره شوی ده. هر کله چه د دوی د سزا نیټه او وعده ورسیږی نو بیا هغه خامخا اجرا کیدونکی ده او له سره وړاندی وروسته کیدونکی نه ده.

يٰبَنِيٓ اٰدَمَ اِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ يَقُصُّوْنَ عَلَيْكُمْ اٰيٰتِيْ فَمَنِ اتَّقٰى وَاَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٣٥﴾ وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَاسْتَكْبَرُوْا عَنْهَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٣٦﴾

---

ای ځامنو (اولاده) د آدم! که راشي تاسي ته رسولان له تاسي څخني چه لولي دوی پر تاسي باندی آيتونه «د کتاب» زما «يعني شرعي احکام» نو هر څوک چه ځان وساتي (له تکذيب څخه) او اصلاح «نيک» کړی (عمل خپل) نو نه به وی هيڅ قسم ويره پر دوی باندی او نه به دوی غمجن کيږی «په نقصان د جزا سره». او هغه کسان چه نسبت ئی د دروغو کړی آيتونو زمونږ ته او کبر «سرکشي کوی» له «قبلولو د» هغی آيتونو هم دغه کسان صاحبان «ملګری» د اور «د دوزخ» دی هم دوی به په دغه اور کښني تل وی.

---

**تفسير**: ابن جرير د ابو يسار سلمی رحمة الله عليه څخني نقل کړی دی چه دغه خطاب د ﴿يٰبَنِيٓ اٰدَمَ اِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ﴾ الآية ـ ګردو (تولو) بنی آدمانو ته په عالم ارواح کښني شوی دی. لکه چه د اول جزء د البقرة ۳۸ آيت ٤ رکوع له سياق څخه معلوميږی ﴿قُلْنَا اهْبِطُوْا مِنْهَا جَمِيْعًا فَاِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ مِّنِّيْ هُدًى﴾ الآية ـ او د ځينو محققينو په نزد هر کله هر خطاب چه په هره زمانه کښني هر قوم ته شوی دی دا د هغو څخه حکايت دی. زما په نزد هغه مضمون چه له دوه رکوع ګانو څخه پخوا جريان لری د هغه د ترتيب او تنسيق څخه دغه خبره پخپله ظاهريږی کله چه آدم او حواء عليهما السلام له خپل اصلی مسکن (جنت) څخه چه هلته دوی ته، آزادی، هوسائی (ارام) او فراخي ور په برخه وه او بی له کوم مزاحمت او ممانعت څخه د ژوندانه د وخت د تيرولو حکم ورکړی شوی ؤ په عارضی دول (طريقه) سره محروم کړی شو. بيا د دوی د مخلصانه توبی او انابت په نسبت دا مناسبه وليدله شوه چه د دوی د هغه حرمان د تلافی او د آدم عليه السلام تمامی اولادی ته د پلرنی ميراث د اعادی په نسبت څه هدايتونه ورکړل شی لکه چه د آدم عليه السلام د هبوط د قصی د ختمولو سره سم يی د ﴿يٰبَنِيٓ اٰدَمَ قَدْ اَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا﴾ الآية ـ خطاب ور شروع کړ، تر دری څلورو رکوع ګانو پوری د همغو هداياتو سلسله جاری وه. په دغو آيتونو کښني د آدم عليه السلام تولی اولادی ته چه ګواکی په يوه وخت کښني ګرد (تول) سره موجود ګڼل شوی دی عام خطاب شوی دی چه د جنت له وتلو څخه وروسته مونږ تاسي ته د جنتی لباس او طعام په ځای د ځمکی د لباس او طعام تدبير فرمايلی دی. اګر که د جنت خوشالی او اطمينان دلته در ميسر نه دی بيا مونږ د

هر راز (قسم) راحت او هوسائی (ارام) له سامانونو څخه د منتفع کیدلو موقع تاسی ته درکری ده، چه تاسی دلته په اطمینان سره د خپل هغه اصلی مسکن او آبائی میراث د اعادی او بیرته لاس ته راوستلو تدبیر وکری شئ. ښائی چه د لعین شیطان له مکر فریب څخه هوښیار اوسئ! چه تاسی د تل لپاره د هغه له میراث څخه بی برخی نه کری! او ځانونه مو له بی حیائی «اثم» ، «عدوان» او نورو گناهونو څخه وژغورئ (وساتئ) او د اخلاص او د عبودیت لاره اختیار کرئ! او د الله تعالیٰ له درکرو نعمتونو څخه متمتع او منتفع کیږئ! مگر له هغو حدودو او قیودو څخه (چه د حقیقی مالک له جانبه معین او تاکلی (مقرره) شوی دی) تیری او تجاوز مه کوئ! بیا وگورئ چه هر قوم خپله، خپله موعوده وعده پوره کوی، او په څه څه ډول (طریقه) خپلو ځایونو ته خپل ځان رسوی، په دی ضمن کښی که الله تعالیٰ په کوم وخت کښی له هم دغه ستاسی څخه کوم رسول مبعوث وفرمائی چه د الله تعالیٰ آیتونه تاسی ته آوروی او په هغو سره تاسی ته ستاسی د پلار اصلی میراث (جنت) د حاصلولو ترغیب او تذکیر درکوی او د حقیقی مالک د خوشالی لاری پکښی در ښکاره شوی دی نو د هغه مرسته (مدد) او پیروی وکرئ! او له الله تعالیٰ څخه وویریږئ! او ناکاره کارونه پریږدئ! او تری بیزاره شئ! او صالحه اعمال اختیار کرئ! نو بیا ستاسی مستقبل بیخی بیخوفه او بی خطره کیږی! او تاسی به داسی یوه مقام ته ورسیږئ چه هلته به د عیش او عشرت، امن، سکون او اطمینان څخه ماسواء بل هیڅ شی نه وی، هو! که زموږ آیتونو ته تاسی د دروغو نسبت وکړ، او د تکبر او لوینی له مخو تاسی پری عمل ونه کر او له هدایته گوښی (بیل) پاتی شوئ نو له اصلی مسکن او آبائی میراث څخه به بی برخی کیږئ! او د دائمی محرومی او ابدی عذاب او هلاکت څخه به ما سواء بل هیڅ شی ستاسی نه په برخه کیږی په هر حال هغه کسان چه له دی آیت څخه د ختم النبوت د قطعی نصوصو په خلاف تر قیامته پوری د انبیاؤ او رسولانو د راتگ ورونه خلاصول غواړی، د هغو لپاره په دغه ځای کښی د خپل مطلب حاصلولو دپاره هیڅ یوه موقع پاتی نه ده.

---

فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِآيَاتِهِ ۚ أُولَٰئِكَ
يَنَالُهُمْ نَصِيبُهُمْ مِنَ الْكِتَابِ ۖ حَتَّىٰ إِذَا جَاءَتْهُمْ رُسُلُنَا
يَتَوَفَّوْنَهُمْ قَالُوا أَيْنَ مَا كُنْتُمْ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ ۖ
قَالُوا ضَلُّوا عَنَّا وَشَهِدُوا عَلَىٰ أَنْفُسِهِمْ أَنَّهُمْ كَانُوا كَافِرِينَ ﴿۳۷﴾

---

نو څوک دی ډیر ظالم له هغه چا چه له ځانه تری پر الله باندی دروغ (چه ښځه، ځوی، لور او شریک لری) یا نسبت د دروغو کوی آیتونه د دغه (الله)

ته (بلکه نشته بل ظالم)، دغه «مکذبان مفتریان پر الله» وبه رسیږی دوی ته برخه د دوی له هغه لیکل شوی «عمر، رزق، اجل او نورو» څخه تر هغه پوری کله چه راشی دوی ته رسولان زمونږ (ملک الموت او اعوان ئی) حال دا چه قبضوی دوی «ارواح د» هغوی وائی (دا ملائک دی کفارو ته د ملامتی په توګه (طریقه))، چیرته دی هغه «معبودان» چه وئ تاسی چه بلل به مو «عبادت به مو کاوه د هغوی» غیر له الله «چه اوس دفع کړی عذاب له تاسی»؟، نو وبه وائی دغه «کافران» ورک شول له مونږ «او هیڅ نفعه مو تری ونه مونده» او شاهدی به ورکړی دوی پر نفسونو «ځانونو» خپلو باندی چه بیشکه دوی وو کافران «په دنیا کښی».

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ د صادقو او رښتینو رسولانو تصدیق کول ضروری دی چه د الله تعالیٰ واقعی معجزی درښیی او دلائل یی در آوروی، باقی که څوک د رسالت دعوی په دروغو وکړی او په دروغو آیتونه له خپله ځانه جوړوی او پر الله تعالیٰ دروغ تړی یا کوم رښتین رسول یا د هغه راوړی آیتونه او کتاب ته د دروغو نسبت کوی. نو د دی دواړو څخنی بل هیڅوک ظالم نه دی.

﴿أُولَٰئِكَ يَنَالُهُمْ﴾ الآیة - دغه مکذبان او مفتریان پر الله وبه رسیږی دوی ته برخه د دوی) یعنی په دنیا کښی عمر او رزق او نور هر څومره چه مقرر او مقدر دی، یا د دی ځای ذلت او رسوائی چه د دوی دپاره لیکلی شوی ده، هغه ګرد (تول) دوی ته رسیدونکی دی، بیا وروسته له مرګه هغه معامله چه له دوی سره کیدونکی ده، د هغی ذکر وروسته له دی نه راځی که د ﴿نَصِيبُهُم مِّنَ الْكِتَابِ﴾ څخنی دنیوی عذاب نه، بلکه اخروی مراد واخستل شی، نو د «حتیٰ اذا جاءتهم ـ الایة» څخه پر دی تنبیه کیږی چه د هغه عذاب د مبادیو سلسله د دغه دنیوی ژوندانه په آخری شیبو کښی شروع کیږی.

﴿حَتَّىٰ إِذَا جَاءَتْهُمْ رُسُلُنَا يَتَوَفَّوْنَهُمْ﴾ الآیة ـ تر هغه پوری کله چه راشی دوی ته رسولان زمونږ چه قبضوی ارواح د دوی) یعنی کله چه پرښتی په ډیره سختی د دوی روح قبضوی او په بد صورت ئی بیائی نو دوی ته ویلی کیږی چه پرته (علاوه) له الله تعالیٰ څخنی هغه شیان چه تاسی بلل هغوی چیری دی؟ چه اوس ستاسی په داد او فریاد نه درسیږی؟ او ستاسی خبر نه آخلی؟ هغوی در وبولئ! چه تاسی له دی مصیبت څخه وژغوری (وساتی)،! په دی وخت کښی به کفار اقرار کوی او په دغه اقرار کولو به اړ (محتاج) کیږی چه مونږ ډیره سخته غلطی کړی وه چه مونږ داسی شیان خپل معبودان او مستعان تاکلی (مقرر کړی) وو چه هغوی د دی کار وړ (لایق) او مستحق نه وو، او نن زمونږ په دغه مصیبت کښی د هغوی هیڅ سراغ او پته نشته. خو دغه بی وخته اقرار او ندامت دوی ته هیڅ ګټه (فائده) او نفع نه رسوی، او پر دوی داسی حکم صادریږی ﴿ادْخُلُوا فِي أُمَمٍ﴾ الآیة - باقی هغه چه په نورو مواضعو کښی راغلی دی چه دوی به د خپل کفر او شرک څخه انکار کوی د دی آیت سره منافی نه ده ځکه چه د قیامت مواقف او

احوال به سره بیل بیل او جلا جلا (جدا جدا) وی او جماعتونه به هم بیشماره ولاړ وی په یوه ځای کښې د یوه موقف او جماعت بیان راځی او په بل ځای کښې د بل جماعت او موقف ذکر کیږی.

قَالَ ادْخُلُوا فِي أُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِكُم مِّنَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ فِي النَّارِ

وبه فرمائی (الله یا پرښته به قیامت کښې دوی ته) چه ننوځئ په هغو امتونو (د کفارو) کښې چه په تحقیق تیر شوی دی پخوا له تاسی له (کفارو د جن) پیریانو او له (کفارو د) انسانانو په اور «د دوزخ» کښې،

**تفسیر :** (مطلب ئی دا دی چه تاسی هم د پخوانیو کفارو په ملګرتیا د دوزخ اور ته ننوځئ)! یعنی هغه وړاندی او وروسته ګرد (تول) کفار به په هم دغه دوزخ کښې داخلیږی.

كُلَّمَا دَخَلَتْ أُمَّةٌ لَّعَنَتْ أُخْتَهَا ۖ

هر کله چه ننوځی (د دوزخ اور ته) یو امت نو لعنت به وائی دغه امت پر هغه بل وړاندی امت چه په مثل د ده ؤ (د کفر په خاص مشرب کښې)،

**تفسیر :** یعنی په دی مصیبت کښې یو له بله سره همدردی به چیری وی بلکه دوزخیان یو پر بل باندی لعن او طعن وائی او مسخری کوی او ملندی سره وهی، ښائی چه تابعان به خپلو سردارانو ته وائی چه د الله لعنت دی پر تاسی وی چه تاسی مونږ هم د خپلو ځانونو سره په عذابونو او ربړونو (تکلیفونو) کښې ډوب کړو! سرداران به خپلو اتباعو ته وائی ای ملعونانو! که مونږ په کنده کښې ولویدو. ستاسی خو سترګی وی، نو تاسی ولی د ړندو په شان مونږ پسی راولویدئ! وغیر ذلک.

حَتَّىٰ إِذَا ادَّارَكُوا فِيهَا جَمِيعًا قَالَتْ أُخْرَاهُمْ لِأُولَاهُمْ رَبَّنَا هَٰؤُلَاءِ أَضَلُّونَا فَآتِهِمْ عَذَابًا ضِعْفًا مِّنَ النَّارِ ۖ قَالَ لِكُلٍّ ضِعْفٌ وَلَٰكِن لَّا تَعْلَمُونَ ﴿٣٨﴾

تر هغه پوری کله چه یو ځای شی دوی په دی «اور» کښې تول نو وبه وائی وروستنی د دوی (یعنی تابعان) په (باب د هغو) ړومبنیو (متبوعانو) خپلو

کښې (الله ته چه) ای ربه زمونږ دغو (مشرانو متبوعانو) گمراه کړی وو مونږه نو ورکړه دوی ته عذاب دوچند (زمونږ) له اوره (د دوزخ) وبه فرمایی الله چه دی لپاره د هر یوه دوچند لیکن نه پوهیږئ تاسی (پری او نه خبریږئ د یو بل له عذاب نه)

---

**تفسیر :** یعنی په یوه حساب د پخوانیو د گناهونو عذاب دوچند شو چه هم پخپله دوی گمراهان شوی وو، او هم ئې راتلونکو لره لاری جوړی کړی، او په بل صورت د ورستنیو گناه دوه چنده شوه چه دوی په دغسی حال کښې گمراهان شول چه د پخوانیو امتونو احوال د دوی په مخ کښې ښکاره پراته وو، او دوی تری هیڅ پند او عبرت نه اخیست. یا ځرنگه چه د هر دوزخی احوال له خپلو درجو سره سم وخت په وخت زیاتیږی، نو ځکه ئې وفرمایل چه د هر یوه عذاب به پرله پسی برابر دوچند کیږی او لا به پسی زیاتیږی، اوس د تعذیب په ابتداء کښې تاسی د تعذیب له انتهاء څخه بی خبره یئ یعنی د پخوانیو د عذاب د دوچند کیدلو څخه به وروستنیو ته څه راحت، هوسائی (ارام) او شفاء نه په برخه کیږی، دا تقریر به په هغه صورت کښې موافق راځی چه د ﴿ لِكُلٍّ ضِعْفٌ ﴾ څخه دواړه فرقی مرادی شی، خو د «ابن کثیر رحمة الله علیه» په نزد به دی آیت کښې وروستنیو ته اطلاع ورکړی شوی ده چه بیشکه مونږ له پخوانیو څخه هر یوه ته سم د هغه له درجی سره دوه چنده عذاب مقرر کړی دی، لکه چه په بل ځای کښې ئې خبر ورکړی دی ﴿ الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ زِدْنَاهُمْ عَذَابًا فَوْقَ الْعَذَابِ بِمَا كَانُوا يُفْسِدُونَ ﴾ (١٤ جزء د النحل ٨٨ آیة ١٢ رکوع) ﴿ وَلَيَحْمِلُنَّ أَثْقَالَهُمْ وَأَثْقَالًا مَّعَ أَثْقَالِهِمْ وَلَيُسْأَلُنَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَمَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴾ (٢٠ جزء د عنکبوت (١٣) آیة (١) رکوع) ﴿ لِيَحْمِلُوا أَوْزَارَهُمْ كَامِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمِنْ أَوْزَارِ الَّذِينَ يُضِلُّونَهُم بِغَيْرِ عِلْمٍ أَلَا سَاءَ مَا يَزِرُونَ ﴾ (١٤ جزء د النحل (٢٥) آیة (٣) رکوع).

---

وَقَالَتْ أُولَاهُمْ لِأُخْرَاهُمْ فَمَا كَانَ لَكُمْ عَلَيْنَا مِن فَضْلٍ فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْسِبُونَ ﴿٣٩﴾ ع

---

او وبه وائی هغه ړومبنی «متبوعان» د دوی په حق د وروستنیو (تابعانو) د دوی کښې چه پس نه ؤ تاسو ته پر مونږ باندی هیڅ فضل (بهتری په تخفیف د عذاب او مونږ او تاسی برابر یو په کفر کښې) نو وڅکئ تاسی عذاب په سبب د هغو کارونو چه وئ تاسی چه کول به مو (په دنیا کښې له شرک او کفر څخه)

**تفسیر :** یعنی زمونږ د سزا د زیاتونی د خواهش څخه تاسی ته څه په لاس درغله؟ آیا ستاسی په عذاب کښی څه تخفیف راغی؟ نه، تاسی هم د خپلو چارو نتیجی وګالئ (برداشت کړی) او خوند ئی وڅکئ!.

---

إِنَّ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَاسْتَكْبَرُوا عَنْهَا لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ وَلَا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّىٰ يَلِجَ الْجَمَلُ فِي سَمِّ الْخِيَاطِ ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُجْرِمِينَ ﴿٤٠﴾

---

بیشکه هغه کسان چه نسبت د دروغو کوی آیتونو زمونږ ته او تکبر کوی (له قبول) د هغو وبه نه پرانیستلی شی دوی ته ورونه د آسمان «چه پورته یوړی شی نیک عملونه او ارواح د دوی» او نه به داخل شی دوی جنت ته تر هغه پوری چه ننوځی اوښ په سوری د ستنی کښی، او هم داسی «لکه جزا د متکبرانو» جزا ورکوو مونږ مجرمانو «کافرانو» ته.

---

**تفسیر :** یعنی نه په ژوند کښی د دوی اعمالو ته آسمانی قبول او رفعت حاصل دی او نه وروسته له مرګه د دوی ارواحو ته اجازه شته چه د آسمان په لوری وخیژی په حدیث کښی راغلی دی چه «له وروسته د کافرانو اعمال او ارواح د آسمان له جانبه د «سجین» په لوری شړل کیږی چه تر ځمکی لاندی دی، او د مومنانو اعمال او ارواح تر اومه آسمانه «علیین» پوری خیژی، مفصل احوال دی د احادیثو په کتابونو کښی ولوستل شی.!

﴿ حَتَّىٰ يَلِجَ الْجَمَلُ فِي سَمِّ الْخِيَاطِ ﴾ تر هغه پوری چه ننوځی اوښ په سوری د ستنی کښی)

دا ئی «د تعلیق بالمحال» په دول (طریقه) وفرمایل. د هری ژبی په محاورو کښی داسی امثال شته، چه په کښی د یوه شی محال توب په بل محال شی باندی معلق وی او دا تری ظاهریږی. همغسی چه هغه شی لا ممکن دی، دغه شی هم ناممکن دی یعنی لکه چه دغه خبره د کیدلو نه ده چه اوښ سره له خپل لوی جسامت د ستنی په سوم کښی سره د هغه د وړوکوالی او صغارت ننوځی، هم داسی د دغو مکذبینو او متکبرینو په جنت کښی داخلیدل محال دی. ځکه چه حق تعالیٰ په جهنم کښی د دوی د «خلود» خبر راکړی دی او په علم الله کښی هم دا سزا دوی ته تاکلی (مقرر) شوی ده نو بیا د الله تعالیٰ د علم او اخبار څخه مخالف کار څرنګه واقع کیدی شی.؟

---

لَهُمْ مِنْ جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَمِنْ فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِينَ ﴿٤١﴾

مقرر دی دوی ته له دوزخ څخنی فرش او وی به د پاسه د دوی آغوستنی «پردی د اور»، او هم داسی (لکه جزا د دی خلقو) جزا ورکوو مونږ ظالمانو ته.

**تفسیر :** یعنی له هری خوا به تری اور چاپیر وی او له هیڅ لوری او په یوه ذره به هم دوی ته راحت او هوسائی (آرام) نه ور رسیږی.

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٤٢﴾

او هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه «عملونه» تکلیف نه فرمایو (بار نه آچوو) په هیڅ نفس مګر په قدر د طاقت د ده دغه «مؤمنان» صاحبان «ملګری» د جنت دی هم دوی به په هغه «جنت» کښی تل وی.

**تفسیر :** ﴿لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا﴾ جمله معترضه ده چه په دی سره ئی په منځ کښی تنبیه وفرمایله چه ایمان او صالح عمل چه پری دومره عظیم الشان صله مرحمت کیږی داسی کوم مشکل شی نه دی چه د انسان له طاقته وتلی وی یا یی دا مطلب چه له هر انسان څخنی دومره صالح عمل مطلوب دی چه د هغه طاقت او قدرت وی، له هغه څخه زیاته مطالبه نه کیږی.

وَنَزَعْنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنْ غِلٍّ

او وبه باسو مونږ هغه چه په سینو د دغو «جنتیانو» کښی دی له کینو څخه.

**تفسیر :** ﴿وَنَزَعْنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنْ غِلٍّ﴾ څخه یا خو داسی مراد دی چه د جنتیانو په منځ کښی به په جنتی نعمتونو کښی یو له بله سره هیڅ قسم شک، شبهه، حسد، رخه (کینه) نه وی. او هر یو به خپل ځان او نور جنتیان داسی ګوری لکه چه یو ورور، خپل بل خوږ ورور ګوری او په لیدلو به ئی خوشالیږی، په خلاف د دوزخیانو چه دوی به د هغه مصیبت په وخت کښی یو بل ته پیغور ورکوی، او لعنتونه او کنځلی به کوی، لکه چه پخوا ولیکل شو یا به مراد داسی وی چه د داسی صالحانو په منځ کښی په دنیوی ژوندون کښی که پر کومه خبره کوم خپګان او اندیښنه

پيښه شوی وی او يو د بل په نسبت څه انقباض او تاثر لری، هغه ګرد (تول) به د جنت له ننوتلو څخه پخوا د دوی له زړونو څخنی ايستل کيږی. هلته به ګرد (تول) يو د بل په نسبت سليم الصدر او خويش وی حضرت علی کرم الله وجهه فرمايلی دی «زه اميد کوم چه زه او عثمان، طلحه، او زبير رضی الله تعالیٰ عنهم به له هم دغو خلقو څخنی اوسو» محقق شيخ الهند محمود الحسن رحمة الله عليه د هم دغی وروستنی معنی په اعتبار د «غل» ترجمه په خپګان سره فرمايلی ده.

تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهِمُ الْاَنْهٰرُ ۚ وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ هَدٰىنَا لِهٰذَا ۗ وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِیَ لَوْلَآ اَنْ هَدٰىنَا اللّٰهُ ۚ لَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُ رَبِّنَا بِالْحَقِّ ؕ

بهيږی به له لاندی د (مانيو او ونو د) دوی ويالی، او وائی به دغه «جنتيان» ګردی (تولی) ثناوی او احسانات خاص الله لره دی هغه (الله) چه برابر ئی کړو موږ دی (مقام) ته او نه وو موږ پخپله چه موندلی مو وی دا لاره که نه ؤ هدايت کړی (لار ښوولی) موږ ته الله په تحقيق راغلی ؤ رسولان د رب زموږ په حقه سره،

**تفسير** : يعنی د الله تعالیٰ په مهربانی او توفيق او د رسولانو په سمه لارښوونه او لاس نيونه موږ دغه اعلیٰ مقام ته رسيدلی يو، او دغه مرتبه مو په برخه شوی ده که نه موږ چيری او دغه لوړی مرتبی چيری؟

دالله په توفيقاتو شی موندلی سمه لار  چه جزا ئی ده جنت ښائسته ګلزار
خورا (ډير) ښه پکښی انعام کړی نعمتونه  په دا ګردو (تولو) به وی زيات د رب ديدار

وَنُوْدُوْٓا اَنْ تِلْكُمُ الْجَنَّةُ اُوْرِثْتُمُوْهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۴۳﴾

او آواز به وکړ شی دغو (جنتيانو) ته داسی چه دغه جنت په ميراث «ويړيا» درکړی شوی دی تاسی ته هغه په سبب د هغه چه وئ تاسی چه کول به مو «له حسناتو په دنيا کښی».

**تفسير** : دغه غږ کوونکی به د پاک الله له لوری کومه پرښته وی، يعنی نن د ګرد (تول) عملی جد او جهد نتيجه در څرګنديږی او تاسی د خپلو کوښښونو او زيارونو (محنتونو) په سبب او د الله تعالیٰ په فضل او کرم له خپلی تمنا سره خپل پلرنی ميراث مو د تل دپاره حاصل او خپل

کړ. په حدیث کښې راغلي دي چه «هیڅوا لره خپل عمل په جنت کښې نه داخلوي» د دې مطلب داسې دی چه د جنت د داخلیدلو حقیقي سبب عمل نه دی او فقط ظاهري سبب ئې ګڼانه شي، ځکه چه د جنت د دخول حقیقي سبب د الله تعالیٰ کامل رحمت دی، لکه چه په هم دغه حدیث کښې راغلي دي او د «الا ان یتغمدني الله برحمته» له الفاظو څخه ظاهرېږي. هو! پر بنده د الله تعالیٰ د رحمت نزول هغومره کیږي چه د عمل روح پکښې موجود وي. شیخ الهند رحمة الله علیه په تل فرمایل «دغه ګاډي د الله تعالیٰ په قدرت سره دروي او عمل د هغو علائمو او اشاراتو په شان دي چه په هغو سره دغه ګاډي حرکت کوي او درېږي ځینې مفسرین د دې آیت ترجمه داسې هم کوي » او غږ به وکړ شي جنتیانو ته چه دا جنت درکړې شوی دی تاسې ته ویریا لکه میراث چه ویریا وي، یا د کافرانو برخه جنت هم تاسې ته میراث پاتې شو. لکه چه ستاسې برخه دوزخ هم دوی ته پاتې شو په سبب د هغو اعمالو چه وې تاسې چه کول به تاسې په دنیا کښې چه هغه استقامت او مواظبت ؤ په اوامرو او اجتناب ؤ له نواهیو څخه.

---

وَنَادَىٰٓ أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ أَصْحَٰبَ ٱلنَّارِ أَن قَدْ وَجَدْنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقًّا فَهَلْ وَجَدتُّم مَّا وَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا ۖ قَالُوا۟ نَعَمْ ۚ فَأَذَّنَ مُؤَذِّنٌۢ بَيْنَهُمْ أَن لَّعْنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٤﴾ ٱلَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا وَهُم بِٱلْءَاخِرَةِ كَٰفِرُونَ ﴿٤٥﴾

---

او غږ به وکړي صاحبان د جنت (د خپه کولو له پاره) صاحبانو د اور ته داسې چه په تحقیق موندلې کړ مونږ هغه (ثواب) چه وعده کړې وه رب له مونږ سره زمونږ په حقه (رښتیا) سره نو آیا موند تاسې (هم) هغه «عذاب» چه وعده کړې وه رب ستاسې په حقه (رښتیا) سره، «نو» وبه وائي دوزخیان چه هو! (هغه مو همغسې بیا موندلې!) نو غږ به وکړي یو غږ کوونکی (اسرافیل) په منځ د دغو (جنتیانو او دوزخیانو) کښې. داسې چه وي دې لعنت د الله په ظالمانو «کافرانو» باندې هغه ظالمان چه آړوي دوی (خلق) له لارې د الله او لټوي دوی په دغې «لارې» کښې کوږوالي «عیب» او هم دوی په (راتلو د) آخرت (قیامت) باندې کافران «منکران» و.

---

**تفسیر :** په دغو آیتونو کښې د هغو مکالماتو او مخاطباتو ذکر دی چه د جنتیانو او دوزخیانو یا د دوی دواړو او اصحاب الاعراف په منځ کښې سره کیږي، د ړومبنیو او وروستنیو

خبرو او اترو څخه چه د «اصحاب الجنة» او د «اصحاب النار» په منځ کښې د دې لورې يا د هغې لورې کيږي له ورا څرګندېږي چه دغه مخاطبات د جنت يا د دوزخ له ننوتلو څخنې وروسته کيږي. نو ځکه د کلام نظم داسې اقتضاء لري چه د «اصحاب الاعراف» ضمنې او منځنې خبرې او اترې هم وروسته له هغه ومنلې شي. په هر حال جنتيان د جنت له رسيدلو وروسته پر خپل حال د خوشحالۍ اظهار کوي، او د دوزخيانو د تقريع او ترټلو او نکايت او شرمولو دپاره به وائي «هغه څه وعدې چه الله تعالىٰ د خپلو رسولانو په ژبو له مونږ سره فرمايلې وې چه ايمان راوړونکو ته دايمي نعيم ورسيږي نو مونږ هغه په رښتيا او ښې سمې وموندلې اې اهل الجهنم تاسې ووايئ چه ستاسې پر کفر او عصيان کومې ويرې او تهديدونه چه درکاوه کيدل. آيا تاسې هم هغه رښتيا او صحيح وموندل؟ ظاهر دی چه کفار به ځواب کښې پرته (علاوه) له «هو!» څخه بل هيڅ شی نشي ويلی. په دغه وخت کښې به د الله تعالىٰ له لورې يو «منادی» ودريږي. او داسې غږ به کوي «اګر که ګنهګاران دير دي» مګر د الله تعالىٰ لوی لعنت او ديره ترټنه پر هغو ظالمانو ده، چه دوی پخپله هم ګمراهان او د آخرت له انجامه بيخی بی فکره وو او هم نور به ئې د حق له لارې څخه بې لارې کول او پخپلو کږو بحثونو سره به شپه ورځ په هم دغه فکر کښې وو چه سمه او صافه لاره هرومرو (خامخا) کږه او خرابه معرفی او ثابته کړي.

---

وَبَيْنَهُمَا حِجَابٌ ۚ وَعَلَى الْأَعْرَافِ رِجَالٌ يَعْرِفُونَ كُلًّا بِسِيمَاهُمْ ۚ وَنَادَوْا أَصْحَابَ الْجَنَّةِ أَن سَلَامٌ عَلَيْكُمْ ۚ لَمْ يَدْخُلُوهَا وَهُمْ يَطْمَعُونَ ﴿٤٦﴾

---

او په منځ کښې د دغو دواړو (جنت او دوزخ يو ديوال) پرده ده، او پر اعراف باندې به سړي وي چه پيژنې دوی هر يو (جنتي او دوزخي) په علامو د دوی سره او غږ به وکړي دغه «اعرافيان» صاحبان د جنت ته داسې چه سلام دی وی پر تاسې باندې، حال دا چه داخل شوی به نه وي دغه (اعرافيان) جنت ته او دوی به طمع (اميد د جنت) لري.

---

**تفسير :** د «حجاب» معنی پرده او پناهي ده. او دلته له پردې څخنې ديوال مراد دی چه د حديد په سورت کښې په دې تصريح شوی ده «فضرب بينهم بسورله باب» دغه ديوال به داسې يو مانع او حاجز وي چه د جنت له خوندونو او لذتونو څخنې دوزخيان بې برخې کوي او د دوزخ له عذابونو، ربړونو (تکليفونو) او کلفتونو څخنې جنتيان بې خبره کوي چه د هغه تفصيلي علم مونږ نه لرو.

﴿ وَعَلَى الْأَعْرَافِ رِجَالٌ يَعْرِفُونَ كُلًّا بِسِيمَاهُمْ ﴾ الاية - اى على اعراف ذالک الحجاب رجال يعنې دا الف لام عوضی دی. «اعراف» جمع د «عرف» ده چه د هر شي سر ته وائي. معنی ئې

دا چه وی به په کنګرو د دی قلعی باندی سری چه دوی به هم جنتیان وینی او هم دوزخیان او پیژنی به جنتی په تک سپین نورانی مخ د ده سره او دوزخی په تک تور ظلمانی مخ د هغه سره ګواکی) د دغه منځنی دیوال د لوړی څوکی نوم «اعراف» دی. د «اعراف اصحاب» څوک دی؟ «قرطبی رحمة الله علیه» پر دغه موضوع دولس اقواله نقل کړی دی زمونږ په نزد راجح قول همغه دی چه له حضرت حذیفه، ابن عباس، ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنهم اجمعین غوندی جلیل القدرو اصحابو او نورو اکثرو اسلافو او اخلافو څخنی منقول دی. یعنی د اعمالو له وزن کیدلو څخه وروسته جنتی هغه دی چه د ده «حسنات» ډیر وخیژی او دوزخی هغه دی چه «سیئات» ئی زیات شی. او هغه کسان چه حسنات او سیئات ئی مساوی او یو برابر څرګند شی هغوی به د «اعراف» اصحاب کیږی. له روایاتو څخنی معلومیږی چه بالاخره «اصحاب الاعراف» هم جنت ته ځی. او برسیره په هغه دا خبره له دغی مسئلی څخه هم فهمیږی کله چه هغه ګنهګاران مؤمنان چه د دوی سیئات پر حسناتو غالب او د هغه په اثر په دوزخ کښی غورځول کیږی، او دوی وروسته د خپلو سزاؤ د ګاللو (تیرولو) څخه بیرته جنت ته بیول کیږی نو «اصحاب الاعراف» چه د دوی حسنات او سیئات سره برابر دی ښائی له دوی څخنی ړومبی جنت ته لاړ شی، ګواکی «اصحاب الاعراف» د «اصحاب الیمین» یو کمزوری قسم وګڼل شی، همغسی چه (سابقین المقربین) فی الحقیقت د «اصحاب الیمینو» داسی یو قسم دی چه د خپلو اولوالعزمیو په سبب له نورو (اصحاب الیمین) څخه وړاندی تللی دی، د دوی په مقابل کښی «اصحاب الاعراف» یو بیرته پاتی شوی قسم دی، چه د خپلو اعمالو د کثافت له امله (وجی) له نورو «اصحاب الیمین» څخه وروسته پاتی دی نو دغه کسان څرنګه چه د (اهل جهنم) او «اهل جنت» په منځ کښی اوسیږی نو دوی د هغو دواړو طبقو خلق د هغوی په مخصوصو علامو سره پیژنی یعنی جنتیان د دوی له تکو سپینو نورانیو ښکلو څیرو او دوزخیان د دوی د تکو تورو ظلمانیو ناولیو څیرو پیژنی چه له ورا معلومیږی. په هر حال کله چه د دوی سترګی پر جنتیانو ولګیږی سلامونه به وراچوی چه له تبریک ورکولو سره به مرادف وی. او څرنګه چه دوی پخپله لا په جنت کښی نه دی داخل شوی. نو د هغه طمع او آرزو کوی چه د دوی دغه هیلی، (امیدونه) اسری، او تمنا بالاخره پوره کیږی.

وَإِذَا صُرِفَتْ أَبْصَارُهُمْ تِلْقَاءَ أَصْحَابِ النَّارِ قَالُوا رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿٤٧﴾

او کله چه وګرځولی شی سترګی د دغو «اعرافیانو او وګوری» په لوری د صاحبانو «ملګرو» د اور نو وبه وائی دغه «اعرافیان له ډیره هیبته» ای ربه زمونږ مه ګرځوه (مه یو ځای کوه) مونږ سره له قومه ظالمانو (کافرانو).

**تفسیر :** څرنګه چه اعرافیان د جنت او دوزخ په منځ کښی اوسیږی نو د دوی احوال د خوف او رجاء په منځ کښی وی. کله چه جنتیانو ته ګوری نو خوشالیږی او هیله او امید ئی پیدا کیږی او کله چه پر دوزخیانو د دوی سترګی ناڅاپه ولګیږی نو له الله تعالیٰ څخه ویریږی، او تری پناه غواړی څو دوی د دوزخیانو په ډله کښی ونه غورځولی شی (په ﴿ صُرِفَتْ أَبْصَارُهُمْ ﴾ کښی اشاره ده دی ته چه اعرافیان عمداً دوزخیانو ته نه ګوری، بلکه بی اختیاره به ئی پری نظر واقع کیږی).

وَنَادَىٰ أَصْحَابُ الْأَعْرَافِ رِجَالًا يَعْرِفُونَهُم بِسِيمَاهُمْ قَالُوا مَا أَغْنَىٰ عَنكُمْ جَمْعُكُمْ وَمَا كُنتُمْ تَسْتَكْبِرُونَ ﴿٤٨﴾

او غږ به وکړی صاحبان د اعراف هغو سړیو ته «له دوزخیانو» چه پیژنی به دا (اعرافیان) هغوی په علامو د «ظلمانی مخونو د» هغو سره وبه وائی دا (اعرافیان دوزخیانو ته) هیڅ دفع ونه کړه له تاسی ډیر والی «د مال یا د رجالو» ستاسی او نه هغه چه وئ تاسی لوئی به مو کوله «له حقه»

**تفسیر :** یعنی برسیره په دی چه په دوزخ کښی معذب کیږی، د دوی په څیرو کښی به د دوزخیتوب علامی هم ښکاری. یا ئی دا مطلب دی چه دوی به داسی خلق وی چه د «اصحاب الاعراف» سره پیژندګلوی لری او په دنیا ئی لیدلی وی، نو څکه کله ئی چه په هغه ځای کښی ووینی نو په څیره ئی پیژنی «او داسی به وائی دوی ته چه هیڅ دفع ونه کړه له تاسی څخه ډیر والی د مال یا د رجالو ستاسی او نه هغه چه وئ تاسی چه کبر، لوئی به کوله تاسی له حقه) یعنی د دی مصیبت په وخت کښی ستاسی هغه ملاتړی جماعتونه او ډلی چیری لاړی؟، او په دنیا کښی هغه ځان منی او لوئی چه تاسی کوله هغه اوس څه شوه؟

أَهَٰؤُلَاءِ الَّذِينَ أَقْسَمْتُمْ لَا يَنَالُهُمُ اللَّهُ بِرَحْمَةٍ ۚ ادْخُلُوا الْجَنَّةَ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمْ وَلَا أَنتُمْ تَحْزَنُونَ ﴿٤٩﴾

(وبه وائی اعرافیان چه) آیا دغه «په جنت کښی» هغه «ضعیفان مسلمانان» دی چه قسمونه به خوړل تاسی (په دنیا کښی) چه وبه نه رسوی دوی ته الله

رحمت خپل (او اوس په جنت او رحمت کښې دی، او الله هغو ته فرمایلی دی چه) ننوځئ جنت ته چه نه به وی هیڅ ویره پر تاسی باندی او نه به تاسی غمجن کیږئ.

**تفسیر** : په دغه سره د «اهل الجنت» په لوری اشاره کوی او دوزخیانو ته به ویلی کیږی چه هغه گوره مات او له کاره وتلی مساکین او ضعیف الحال کسان چه تاسی هغوی حقیر او خوار او اکرب گڼل او داسی به مو ویل چه آیا د پاک الله مهربانی به گرد (تول) عالم کښی فقط په هم دغسی کسانو کیږی! ﴿ أَهَٰؤُلَاءِ مَنَّ اللَّهُ عَلَيْهِم مِّن بَيْنِنَا ﴾ نن هغو ته وگورئ چه د ﴿ ادْخُلُوا الْجَنَّةَ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمْ ﴾ الآیة - مصداق گرځیدلی دی. یعنی ننوځئ په جنت کښی بی له خوف او ویری، حال دا چه تاسی په دغه عذاب کښی اخته او مبتلا یئ ځینی مفسرین ﴿ ادْخُلُوا الْجَنَّةَ ﴾ د اعرافیانو مقوله بولی. او ځینی ئی د الله تعالیٰ مقوله گڼی چه الله تعالیٰ به اعرافیانو ته فرمائی چه ننوځئ ای اعرافیانو جنت ته الخ

وَنَادَىٰ أَصْحَابُ النَّارِ أَصْحَابَ الْجَنَّةِ أَنْ أَفِيضُوا عَلَيْنَا مِنَ الْمَاءِ أَوْ مِمَّا
رَزَقَكُمُ اللَّهُ ۚ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَهُمَا عَلَى الْكَافِرِينَ ﴿٥٠﴾ الَّذِينَ
اتَّخَذُوا دِينَهُمْ لَهْوًا وَلَعِبًا وَغَرَّتْهُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا ۚ فَالْيَوْمَ
نَنسَاهُمْ كَمَا نَسُوا لِقَاءَ يَوْمِهِمْ هَٰذَا وَمَا كَانُوا بِآيَاتِنَا يَجْحَدُونَ ﴿٥١﴾

او غږ به وکړی صاحبان د اور صاحبانو د جنت ته داسی چه راتوی کړئ تاسی پر مونږ باندی. له اوبو نه یا (راواچوئ) له هغو شیونو چه روزی کړی دی تاسی ته الله، وبه وایی جنتیان «د دوزخیانو په ځواب کښی» چه بیشکه الله حرام کړی دی دا دواړه «اکل او شرب» پر کافرانو هغه کافران چه نیولی دی دوی دین خپل تماشا او لوبی او غولولی وو دوی ژوندانه لږ خسیس، نو نن ورځ به هیروو (پریږدو) مونږ دوی لکه چه هیر کړی وو دوی ملاقات د ورځی خپلی چه دغه ده او (لکه چه) وو دوی چه په آیتونو زمونږ به ئی انکار کاوه (چه الله نه دی رالیږلی).

**تفسیر** : دوزخیان د ډیر اضطراب او بد حواسی له امله (وجی) د جنتیانو په لوری د سوال لاس غځوی چه مونږ سوځو، لږ څه اوبه پر مونږ راتوئی کړئ یا له هغو نعمتونو څنی چه الله تعالیٰ

تاسی ته درکړی دی، مونږ ته هم لږ څه راکړئ چه تری ګټه (فائده) واخلو نو ځواب مومی چه په کافرانو باندی دغه ګرد (تول) شیان بند دی، دغه کافران هغه کسان دی چه له دین څخه ئی تماشی او لوبی جوړی کړی وی او په دنیوی عیش او تنعم کښی دوب او وربانذی پرسیدلی وو چه دوی هلته په دنیوی خوندونو او عیشونو کښی اخته وو او له سره د آخرت خیال ئی نه درلود، (لرلو) نن مونږ هم له سره د دی خیال او پروا نه کوو، او همغسی چه دوی زمونږ له آیتونو څخنی منکران شوی وو، نن مونږ هم د دوی د غوښتنو له منلو څخه انکار کوو.

وَلَقَدْ جِئْنٰهُمْ بِكِتٰبٍ فَصَّلْنٰهُ عَلٰى عِلْمٍ هُدًى وَّرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ۝٥٢

او خامخا په تحقیق راوړی دی مونږ دغو «کفارو» ته کتاب چه واضح بیان کړی دی مونږ «معانی د» ده حال دا چه عالمان وو مونږ «په معانی د ده» حال دا چه دغه کتاب هدایت او رحمت دی له پاره د «هغه» قوم چه ایمان (پری) لری.

**تفسیر** : د قرآن کریم په شان د یوه مقدس کتاب په موجودیت چه په کښی د ګردو (تولو) ضروریاتو عالمانه تفصیلات شته او د هری خبری پوره تنبیهات په ښکاره دول (طریقه) سره پکښی بیان کړی شوی دی، لکه چه مؤمنان له هغو څخه پوره منتفع کیږی نو دیره د افسوس خبره ده چه دوی ولی تری نه منتفع کیدل؟ او دغو متکبرانو معاندانو خپل دغه پای (اخر) او انجام ته هیڅ فکر او اندیښنه نه کولی نو بیا اوس له داسی افسوس او حسرته څه په لاس ورځی. ځینی مفسرین د دی آیت ترجمه داسی کوی «او هرومرو (خامخا) په تحقیق راوړی دی مونږ کفارو ته یو کتاب یعنی قرآن چه په تفصیل په کښی بیان کړی دی مونږ عقائد او دینی احکام او مواعظ او قصص په علم کامل خپل سره په وجوه د تفصیل په دی حال کښی چه رهنما او مهربانی ده دپاره د هغه قوم چه ایمان پری راوړی.

هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّا تَاْوِيْلَهٗ ؕ يَوْمَ يَاْتِيْ تَاْوِيْلُهٗ يَقُوْلُ الَّذِيْنَ
نَسُوْهُ مِنْ قَبْلُ قَدْ جَآءَتْ رُسُلُ رَبِّنَا بِالْحَقِّ ۚ فَهَلْ لَّنَا مِنْ
شُفَعَآءَ فَيَشْفَعُوْا لَنَآ اَوْ نُرَدُّ فَنَعْمَلَ غَيْرَ الَّذِيْ كُنَّا نَعْمَلُ ؕ قَدْ
خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ۝٥٣

آیا انتظار کوی دوی (بلکه نه کوی) مگر عاقبت د هغه «شی ته چه په دغه کتاب» کښی دی «له ثواب او عذابه چه ورښکاره شی» په هغی ورځی کښی چه راشی عاقبت د ده «په قیامت کښی» وائی هغه کسان چه هیر کړی وو دوی دغه کتاب پخوا له دی نه «په دنیا کښی» په تحقیق راغلي وو رسولان د رب زمونږ په حقه سره (خو ومو نه منل او بد مو وکړل) نو آیا شته مونږ لره «اوس» له شفاعت کوونکو چه شفاعت وکړی دوی له پاره زمونږ یا بیرته بوتله شو (دنیا ته) نو «ښه» عمل به وکړو غیر له هغه «بد» عمل چه وو مونږه چه کاوه به مو (دنیا کښی)، (وبه فرمائی الله) په تحقیق زیان رسولی دی دوی ځانونو خپلو ته په کفر او ورک (او بی فائده) شو له دوی نه هغه چه وو دوی چه دروغ بی ئی ویلی (د شرک).

**تفسیر :** هغه د عذاب ویره چه په کتاب الله کښی ورکړی شوی ده آیا دوی هغه ته منتظر دی؟ کله چه د هغه انذار له مضمون «مصداق» سره مخامخ شی بیا به ئی قبلوی. حال دا کله چه دوی له هغه مضمون سره هلته مخامخ ـ یعنی په عذاب کښی اخته شی نو قبلول ئی هیڅ یوه فائده نه وررسوی. په دغه وخت کښی به شفاعت کوونکو پسی ګرځی چه د هغو په وسیله د پاک الله څخه د خپلی سزا عفوه وغواړی، خو څرنګه چه کفارو ته داسی شفاعت کوونکی له سره په لاس نه ورځی نو داسی هیله (امید) او تمنا کوی: که مونږ بیرته دنیا ته بوتلی شو او بیا تر ازموینی لاندی ونیولی شو چه دا ځلی مونږ د خپلو جرائمو په خلاف څرنګه د نیکی او د پرهیزګاری اعمال کوو؟ خو اوس د دوی له دغی اسری او تمنا ځنی هیڅ په لاس نه ورځی، ځکه چه دوی پخپلو لاسونو سره خپلو ځانونو ته نقصان او تاوان رسولی دی او هغه چتی (فضول) خیالونه چه دوی پخپلو مغزو کښی لرل بیخی چتی (فضول) او بیکاره څرګند شول.

إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهُ حَثِيثًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومَ مُسَخَّرَاتٍ بِأَمْرِهِ ۗ أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ ۗ تَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ ﴿٥٤﴾

بیشکه چه رب ستاسی الله دی هغه «الله» چه پیدا کړی ئی دی آسمانونه او

ځمکه (او هغه شیان چه د دوی په منځ کښې دی) په «مقدار د» شپږو ورځو کښې بیا ئی استواء وکړه پر عرش پتوی (تیاره د) شپې په «رڼا د» ورځې چه طلب کوی هره یوه بل لره په تلوار سره او «پیدا کړی ئی دی» لمر او سپوږمی او ستوری حال دا چه مسخر «منقاد» کړی شوی دی امر «حکم» د الله ته، خبردار شئ چه «خاص» الله لره دی پیدا کول او امر (حکم فرمایل) لوی برکت والا دی الله چه رب «پالونکی» د ګردو (تولو) عالمیانو «د جهان» دی.

---

**تفسیر :** په پخوانی آیت کښې د «معاد» ذکر ؤ. په دغی رکوع کښې «مبدأ» معرفی شوی ده هلته په ﴿قَدْ جَاءَتْ رُسُلُ رَبِّنَا بِالْحَقِّ﴾ سره دا ښوولی شوی وه هغه خلق چه په دنیا کښې له انبیاؤ او رسولانو څخه منحرف کیږی دوی به هم د قیامت په ورځ کښې د انبیاؤ علیهم السلام صداقت مجبوراً تصدیق کوی، دلته په ډیر لطیف اسلوب سره د الله تعالیٰ د حکومت د یادونی او د انبیاؤ او د رسولانو د ضرورت په لوری له اشاره کولو څخه وروسته د ځینو مشهورو انبیاؤ د احوالو او واقعاتو یادونه کیږی چه د دوی د مصدقانو او مکذبانو انجام پخوا له آخرته په هم دغی دنیا کښې څرنګه شو؟ ګواکی دغه رکوع د راتلونکو څو رکوع ګانو د تمهید په شان ده. ﴿فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ﴾ په مقدار د شپږو ورځو کښې» یعنی په دومره وخت کښې چه له شپږو ورځو سره برابر ؤ پیدا ئی کړل ځکه چه دغه متعارفی ورځې او شپې خو د لمر له طلوع او غروب سره تړلی دی نو کله چه لمر په هغه وخت کښې پیدا شوی نه ؤ نو شپه او ورځ له کومه پیدا شوی وو یا داسی وویل شی چه د عالم الشهادت شپه ورځ نه ده مراد بلکه د عالم الغیب شپه او ورځ مراد دی.

د غیبو وریځ او اوبه بل شان دی　　　قمر لمر سما غبراءئی واړه بل شان دی

په اول صورت کښې د علماؤ په منځ کښې سره اختلاف دی چه له شپږو ورځو ځنی دلته د شپږو ورځو مقدار مراد دی یا د زرو کلونو یوه یوه ورځ مقصود ده چه د هغه په نسبت ئی فرمایلی دی ﴿وَإِنَّ يَوْمًا عِنْدَ رَبِّكَ كَأَلْفِ سَنَةٍ مِمَّا تَعُدُّونَ﴾ زما په نزد دغه آخری قول راجح دی. په هر حال مقصود داسی شو چه ځمکه او آسمان دفعتاً یو ځلی جوړ او درولی شوی نه دی، نو ښائی ړومبنی به ئی ماده جوړه کړی وی بیا به د دوی له استعداده سره سم متدرجاً په مختلفو اشکالو او صورتونو سره برابر منتقل شوی وی. تر دی چه په شپږو ورځو «شپږو زرو کلونو» کښې دوی سره له خپلو ګردو (تولو) متعلقاتو په موجوده مرتبو اشکالو سره پیدا شوی وی. لکه چه نن ورځ د انسانانو او حیواناتو او نباتاتو او نورو د تولید او تخلیق سلسله په هم دغو تدریجی اصولو جاری ده او دغه سلسله د ده د ﴿كُنْ فَيَكُونُ﴾ له شان سره منافی نه ده. ځکه چه د ﴿كُنْ فَيَكُونُ﴾ مطلب خو یوازی دا دی چه خدای د هر شی ایجاد په هره درجه سره چه وغواړی د ده له ارادی سره سم په همغه درجه سره پیدا کیږی. او دا ئی مطلب نه دی چه الله

تعالیٰ د کوم شي د وجود له مختلفو مدارجو څخه د تیریدلو اراده نه فرمائي بلکه هر شی بی د اسبابو او عللو له واسطی دفعتاً هم موجودولی شي.

﴿ ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ ﴾ بیا ئی استواء وکړه پر عرش» د الله تعالیٰ د صفاتو او افعالو په نسبت دغه خبره ښائی تل په یاد وساتله شي چه د قرآن او حدیث په نصوصو کښی کوم الفاظ چه د الله تعالیٰ د صفاتو د بیانولو له پاره اختیاراوه شي، په هغو کښی علی الاکثر همغه شیان دی چه د مخلوقاتو په صفاتو کښی هم استعمالیږی ـ مثلاً الله تعالیٰ ته حی، سمیع، بصیر، متکلم ویلی شوی دی چه پر انسانانو هم د دغو صفاتو اطلاق کاوه شی، مگر په دغو دواړو مواقعو کښی د استعمال حیثیت بیخی بیل او جلا (جدا) دی، کوم مخلوق ته سمیع او بصیر ویل داسی مطلب لری چه دی د لیدلو سترگی او د آوریدلو غوږونه لری اوس په دی کښی دوه شیان پیدا شول، یوه هغه آله چه ورته «سترگه» ویل کیږی چه د لیدلو مبدأ او وسیله ده. دوهم د هغی نتیجه او غرض او غایه «لیدل» دی، یعنی هغه خاص علم چه له «بصری رؤیت» څخه حاصلیږی ـ کله چه مخلوق ته «بصیر» ویلی کیږی نو دغه مبدأ او غایه دواړه معتبر شول او د دواړو کیفیتونه معلوم شول، لیکن هم دغه لفظ کله چه د الله تعالیٰ په نسبت استعمالوه شي نو یقیناً هغه مادی او جسمانی کیفیات تری نه مرادیږی چه د مخلوقاتو له خواصو څخه دی او له هغو څخه قدوس خدای قطعاً پاک او منزه دی. هو داسی اعتقاد لرل به په کار وی چه د (ابصار) یعنی د لیدلو مبدأ د ده په اقدس ذات کښی شته او د هغه نتیجه یعنی هغه علم چه «له بصری رؤیت» څخه حاصلیدی شی ده ته د کمال په درجه حاصل دی. پاتی شو دا چه د هغه مبدأ څرنگه ده؟ او د لیدلو کیفیت څه دی؟ نو پرته (علاوه) له دی خبری څخه چه د هغه لیدل او نور صفات د مخلوقاتو په شان نه دی نور څه ویلی نه شو ﴿ لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ ﴾ نه یوازی «سمع» او «بصر» بلکه د ده گرد (تول) صفات ښائی هم داسی وگڼلی شي. چه د صفت د خپل اصل المبدء او غایت په اعتبار ثابت دی مگر د هغه هیڅ یو کیفیت نشی بیان کیدی او د سماوی شرائعو له خوا داسی څه حکم صادر شوی نه دی چه انسان په داسی ماوراء العقولو حقائقو کښی هم غور او خوض وکړی او ځان په ربړونو (تکلیفونو) کښی اخته کړی، د دی خبری څه خلاصه مو په (٦) جزء د المائده په (٦٤) آیت «۹» رکوع کښی د ﴿ وَقَالَتِ الْيَهُودُ يَدُ اللَّهِ مَغْلُولَةٌ ﴾ لاندی بیان کړی ده. په ﴿ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ ﴾ هم له دی سره سم وپوهیږئ. د عرش معنی تخت او لوړ مقام دی «استواء» ترجمه اکثرو محققانو په «استقرار او تمکن» سره کړی ده «چه د هغه ترجمه شیخ الهند په قرار نیولو سره تعبیر فرمایلی ده» گواکی دغه لفظ د حکومت پر تخت داسی قبضه کول راښکاروی، چه د هغه هیڅ یوه برخه او څنډه (حصه) د ده د نفوذ او اقتدار له احاطی د باندی نه ده پاتی، او نه د ده په قبضه او تسلط کښی کوم قسم مزاحمت او اختلال مونده کیږی، گرد (تول) کارونه او انتظام ئی سم او برابر دی اوس په دنیا کښی د پاچاهانو په تخت کیناستل خو یوه مبدأ او ظاهری صورت لری او بل خو ئی حقیقت یا غرض یا غایت دی، یعنی پر ملک د پوره تسلط، اقتدار، نفوذ، تصرف

او قدرت حصول، د حق تعالی په ﴿ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ﴾ کښې دغه حقیقت، غرض او غایت د کمال په درجه شته، یعنی د آسمان او ځمکې «تولو علویاتو او سفلیاتو» له پیدا کولو څخه وروسته پر هغو باندې کامله قبضه او اقتدار او د هر راز (قسم) مالکیت او شهنشاهیتوب تصرفات بې له مزاحمت او ممانعته ورحاصل دی، لکه چه په بل ځای کښې د ﴿ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ﴾ څخه وروسته د ﴿ يُدَبِّرُ الْأَمْرَ ﴾ او نورو الفاظو او دلته په ﴿ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ ﴾ الآية سره په دغه مضمون تنبیه فرمائی. پاتی شوه د ﴿ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ﴾ مبدأ او ظاهری صورت د هغه په متعلق همغسی عقیده لرل په کار دی چه مونږ د «سمع، بصر» او نورو صفاتو په متعلق لیکلی دی چه د هغه هیڅ صورت داسی نشی کیدی چه په هغه کښې د مخلوقاتو صفات، یا د حدوث د علائمو لږ څه شائبه هم وی نو بیا دغه مسئله څرنګه ده؟ د هغه ځواب هم دا دی.

ای له وهمه له خیاله له قیاسه څنې پورته

ای له هغه چه مو لوستی، اوریدلی او لیدلی ته ئی پورته

دفترونه مو شول بشپړ او تمام شول ګرد (تول) عمرونه

مونږ لا پاتی په اول د وصف ستا کښې رب ئی پورته

( ﴿ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهُ حَثِيثًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومَ ﴾ پټوی تیاره د شپې په رڼا(رنړا) د ورځې چه طلب کوی هره یوه بلې لره په تلوار سره یا لټوی هره یوه له دوی بله په تلوار بلا فاصل یعنی متصل وروپسی راځی لکه طالب. او پیدا کړی دی مونږ لمر او سپوږمی او ستوری) یعنی د شپې تیاره د ورځې په رڼا(رنړا) سره یا د ورځې رڼا(رنړا) د شپې په تیاری سره پټوی او هم داسی پرله پسی یو د بل تعاقب کوی او په تلوار سره اوړی را اوړی، هم دا چه شپه پای (اخر) ته ورسیږی وروپسی جوخته ورځ راځی، یا چه ورځ ختمه شی وروپسی سمه شپه رسیږی. د دی دواړو په منځ کښې د یوی شیبې فرق او وقفه نه راځی، بنائی په دی سره ئی داسی تنبیه فرمایلی وی: هم داسی کله چه د کفر او ضلالت او د ظلم او عدوان توره تیاره شپه پر عالم محیطه شی، نو هغه وخت الله تعالیٰ د ایمان او عرفان په لمر سره هری خوا ته رڼا(رنړا) خوروی، او تر څو چه د حقانیت د لمر رڼا(رنړا) راښکاره نشی د نبوت سپوږمی او ستوری د شپو په تیارو کښې رڼا(رنړا) او لارښوونه کوی.

( ﴿ مُسَخَّرَاتٍ بِأَمْرِهِ ﴾ چه مسخر، منقاد اوایل وی حکم د الله ته) یعنی هیڅ یو ستوری بې د الله تعالیٰ له حکمه نشی خوځیدلی. (او تول د اله العالمین په حکم او فرمان پخپلو وظائفو کښې مشغول دی).

( ﴿ أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ تَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ ﴾ وارورئ! خبردار شئ! چه خاص الله لره دی پیدا کول او امر (حکم کول) لوی برکت والا دی الله چه رب پالونکی د ګرد (تول) جهان دی.) پیدا کول «خلق» دی. او د پیدا کولو څخه وروسته تشریعی یا تکوینی احکام ورکول «امر» دی. او دغه دواړه د الله تعالیٰ په قبضه او اختیار کښې دی، نو په دی شان د ګردو (تولو) محاسنو او برکاتو منبع شو. بیشکه چه الله تعالیٰ ډیر لوی ذات دی په وحدانیت او

الوهيت او ربوبيت او نور جلالى او جمالى صفاتو خپلو کښې جل جلاله عم نواله واعظم برهانه

ادْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً

بولئ تاسى رب خپل «هر وخت» په زارى عذر او په پټه سره «ځکه چه په پټه بلل د اخلاص دليل دى»،

**تفسير** : كله چه د «عالم الخلق» او د «عالم الامر» مالک او د ګردو (تولو) بركاتو منبع هم دغه پاک ذات دى نو پخپلو دنيوى او اخروى حوائجو کښې ښائى چه په الحاح، اخلاص، خشوع او خضوع سره بى له ښوولو او ريا څخه ورو ورو وباله شى! له دى نه معلوميږى چه په دعاء کښې اصل اخفاء ده او هم دغه په اسلافو کښې معموله وه. په ځينو مواضعو کښې جهر او اعلان به د کوم عارض له مخې وى. چه د هغه تفصيل په «روح المعانى» او نورو کښې شته.

إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ ﴿٥٥﴾

بيشكه چه الله نه خوښوى تيريدونکى «له شرعى حدودو په دعاء بلكه په هر څه کښې»

**تفسير** : يعنى په دعاء کښې دى د ادب له حدودو تيرى ونه کړى شى ـ مثلاً هغه شيان چه عادتاً يا شرعاً محال وى هغه وغواړى يا د معاصيو او لغو شيانو طلب وکړى يا داسى کوم سؤال وکړى چه د ده له شان او حيثيته سره څه مناسبت نه لرى. (يا به مراد ترى پورته کول د غږ وى يا به دير اوږدول د دعا وى) دا ګرد (تول) په «اعتداء فى الدعاء» کښې داخل دى.

وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا وَادْعُوهُ خَوْفًا وَّطَمَعًا ۚ إِنَّ رَحْمَتَ اللَّهِ قَرِيبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِينَ ﴿٥٦﴾

او مه کوئ فساد «اى انسانانو!» په ځمکه کښې وروسته له اصلاح د دى (د انبياؤ په بعثت سره) او بولئ تاسى الله (عبادت ئى کوئ) په خوف (ويرى) سره «له عذابه د الله» او په طمع (اميد د رحمت د الله) بيشكه چه رحمت (مهربانى) د الله ديره نژدى ده محسنانو (نيکى کوونکو) ته.

**تفسير :** په پخوانيو آيتونو كښې يې په هر حاجت كښې د الله تعالىٰ د بللو طريقه ښولى وه، په دغه آيت كښې د خالق او مخلوق د دواړو حقوق او رعايت ښوول كيږي، يعنى كله چه په دنيا كښې د معاملاتو سطحه اصلاح، برابره او درسته شي، نو بيا تاسى په هغى كښې اختلال او اشكال مه آچوئ! او سره له خوف او رجاء د پاک الله په عبادت كښې لګيا او مشغول اوسئ! مه د الله تعالىٰ له رحمته مايوس او نااميده شئ او مه د الله تعالىٰ له عذابه مامون او بى فكره وګرځئ! او مه ككروئ خپل ځانونه په ګناهونو او مه پرى جرئت كوئ! زما په نزد هم دغه راجح ده چه دلته په «وادعوه» كښې له «دعاء» څخه عبادت مراد شى لكه چه د صلوة التهجد په باره كښې ئى فرمايلى دى: ﴿ تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا ﴾

وَهُوَ الَّذِي يُرْسِلُ الرِّيَاحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهِ ۖ حَتَّىٰ إِذَا أَقَلَّتْ سَحَابًا ثِقَالًا سُقْنَاهُ لِبَلَدٍ مَّيِّتٍ فَأَنزَلْنَا بِهِ الْمَاءَ فَأَخْرَجْنَا بِهِ مِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ ۚ كَذَٰلِكَ نُخْرِجُ الْمَوْتَىٰ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿٥٧﴾ وَالْبَلَدُ الطَّيِّبُ يَخْرُجُ نَبَاتُهُ بِإِذْنِ رَبِّهِ ۖ وَالَّذِي خَبُثَ لَا يَخْرُجُ إِلَّا نَكِدًا ۚ كَذَٰلِكَ نُصَرِّفُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَشْكُرُونَ ﴿٥٨﴾

او هم دغه «الله» هغه ذات دى چه رالیږى بادونه زيرى كوونكى په مخ كښې د رحمت د ده «چه باران دى»، تر هغه پورى چه راواخلى (دغه بادونه) وريځى درنى (په اوبو سره) چه روانوو مونږ دغه (وريځى زرغونولو د) هغه ځمكى ته چه مړه «وچه بى ګياه» وى پس نازلوو مونږ له دى وريځو څخه اوبه نو راباسو مونږ په هغو اوبو له هر قسم ميوو څخه هم داسى (چه دغه مړه وچه ځمكه ژوندى كوو) راباسو مونږ مړى (له ځمكى) دپاره د دى چه پند واخلئ (او لازم دى چه غور پكښى وكړئ). او ځمكه پاكه «خوږه صالح الزراعته» راوځى زرغونه د دى «ښه كامله» په اذن (حكم) د رب د ده، او هغه ځمكه چه خرابه ښوره ناكه وى نه راوځى (زرغونه ئى) مګر لږ ناقصه، په شان د دى (پاس مثالونو) بيا، بيا، بيانوو آيتونه دپاره د قوم (مؤمنانو) چه شكر باسى.

**تفسیر :** په پخوانیو آیتونو کښې د ﴿ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ﴾ سره په فلکیاتو لمر، سپوږمی ستوری او نورو کښې د الله تعالیٰ د ځینو تصرفاتو بیان ؤ ـ وروسته له هغه ئی خپلو بندګانو ته نور څه مناسب هدایتونه ورکړل اوس د «سفلیاتو» او د «کائنات الجو» په متعلق د خپلو ځینو تصرفاتو ذکر فرمائی تر څو خلق پری ښه وپوهیږی چه د ګردو (تولو) علویاتو او سفلیاتو او جویاتو اسمان، ځمکه او د دوی دواړو په منځ او شاؤ خوا کښې د ګردو (تولو) موجوداتو عمومی حکومت د پاک الله رب الْعٰلمین د قدرت په قبضه کښې دی. د بادونو چلیدل، د بارانونو، واوری، ږلی وورول، د راز راز (قسم قسم) ګلانو، شنیلیو او نباتاتو پیدا کول د هری ځمکی له استعداد سره سم پکښې کښتونه (فصلونه) د خړ ځایونه، باغونه، ریاحین، اشجار اثمار او نور شیان پیدا کول دا ګرد (تول) د الله تعالیٰ د کامله قدرت او بالغه حکمت علامی او نښې دی. په دی ترڅ کښې د مرو بیا ژوندی پاځیدل هم راوفهمیده. حضرت شاه صاحب فرمائی چه «د مرو پاڅیدل یو په قیامت کښې دی او بل په دنیا کښې. یعنی په جاهل او ادنٰی خلقو کښې ئی چه د جهالت او ذلت په موت سره مره شوی وو عظیم الشان نبی علیه السلام ولیږه او دوی ته ئی علم ورکړ او د دنیا سرداران ئی تری جوړ کړل. بیا ښه استعداد لرونکی سری یی د کمال په درجه ورسول. او هغو ته چه یی استعداد خراب ؤ هم فائده وررسیده مګر په ناقص ډول (طریقه). یعنی په دغه توله رکوع کښې دا ښوولی شوی دی: کله چه الله تعالیٰ په خپل رحمت او شفقت سره توره تیاره شپه په ستورو، سپوږمی او لمر سره رڼا(رنړا) کوی او له وچی ځمکی څخه شنیلی او نباتات زرغونوی او له هغو څخه د انسانانو او حیواناتو د ژوندون سامان تیاروی او د ګردو (تولو) سفلیاتو د حیات او نشاط د مهیا کولو لپاره له آسمانه وریا «باران» رانازلوی نو څرنګه کیدی شی چه داسی مهربان الله د خپل مخلوق بنی آدمانو له پاره داسی کوم ستوری، سپوږمی، او لمر به ئی نه وی پیدا کړی چه دوی د جهل او ظلم له تیارو څخه هم وباسی او د روحانی غذاء د تیارولو د معنوی کښتونو (فصلونو) د سیرابولو (اوبولو او لویولو) دپاره به ئی د رحمت باران نه وی نازل کړی؟ بلاشبه پاک الله د هری زمانی د ضرورت او له خپل حکمت سره موافق انبیاء علیهم السلام رالیږلی دی چه د دوی له منورو سینو څخه دنیا ته روحانی رڼا(رنړا ) ورسوی او د الهٰی وحی پرله پسی بارانونه اوروی لکه چه په دغی بلی رکوع کښې د انبیاؤ د ارسال ذکر کړی شوی دی. او لکه چه د باران او د ځمکی په مثال کښې اشاره کړی شوی ده چه مختلفی ځمکی د خپلو استعدادونو سره سم د باران اثر قبلوی، هم داسی وپوهیږئ چه انبیاء علیهم السلام د هغه خیر او برکت له پاره چه لیږلی شوی وو له دوی ځنی منتفع کیدل هم په ښو استعدادنو پوری موقوف دی هغه خلق چه تری انتفاع نه آخلی یا پوره نه منتفع کیږی دوی ته ښائی پر خپلو دغو بدو استعدادونو وژاړی.

د باران طبع ښکاره ده بی له هغه هیڅ ژوند نشته

باغ کښې ګل تری زرغونیږی په شوره کښې ئې خوند نشته

لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ فَقَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا
لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٍ ٥٩
قَالَ ٱلۡمَلَأُ مِن قَوۡمِهِۦٓ إِنَّا لَنَرَىٰكَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ٦٠

قسم دی په تحقیق لیږلی ؤ مونږ نوح په لوری د قوم د ده نو وویل «نوح» ای قومه زما عبادت کوئ تاسی د الله نشته تاسی ته هیڅ معبود بی له دغه «الله»، بیشکه زه ویریږم په تاسی باندی له عذاب د ورځی لویی «طوفان یا د قیامت». نو وویل مشرانو له قومه د نوح بیشکه مونږ وینو (یا ګڼو) تا په ګمراهی ځرګنده کښې (چه پلرنی دین دی پریښی او ډیر خدایان منی)

**تفسیر :** د آدم علیه السلام قصه د دی سورت په ابتداء کښې تیره شوه وروسته له آدم علیه السلام ړومبنی اولوالعزم او مشهور رسول نوح علیه السلام ؤ چه د اهل الارض د مشرکانو د اصلاح او هدایت له پاره ولیږل شو اګر که د نوح علیه السلام د خاص شریعت په اعتبار د ده بعثت خاص د ده د قوم په لوری ؤ خو بیا هم د هغو اساساتو او اصولو په اعتبار چه د ګردو (تولو) انبیاؤ علیهم السلام په اصولو کښې سره ګډ او مشترک دی د هغه مخاطبان ګرد (تول) انسانان دی لکه د توحید او اقرار بالمعاد په تعلیم کښې ګرد (تول) انبیاء علیهم السلام له تکذیب سره مرادف دی. په هر حال نوح علیه السلام د توحید او د نورو اصلاحاتو عمومی دعوت ورکړ. وائی چه د آدم علیه السلام څخه لس قرنه وروسته د هغه ګرد (تول) اولاد د توحید پر کلمه تینګ ولاړ وو د بت پرستی ابتداء د ابن عباس رضی الله تعالیٰ له قول سره موافق داسی شروع شوه چه د ځینو صالحانو د انتقال څخه وروسته چه د دوی نومونه (ود، سواع، یغوث، یعوق، او نسر) وو او د نوح په سورت کښې مذکور دی خلقو د هغو ځیری جوړی کړی، تر څو د دی د احوالو، عباداتو او نورو خصوصیاتو یادونه پری وشی ـ لږ څه وروسته د هغو تصاویرو په شان څو مجسمی تیاری شوی، او متدرجاً خلق د دغو مجسمو په عبادت کښې لګیا شول چه د همغو مشرانو په نامه موسومی شوی وی. کله چه د بت پرستی وبا خوره او منتشره شوه، نو الله تعالیٰ نوح علیه السلام ولیږه. نوح علیه السلام پخوا له طوفانه خپل قوم ته تر نهه نیم سوه کاله پوری د توحید او د تقویٰ په لوری دعوت ورکړ ـ او د دنیا او آخرت له عذابونو څخه ئې دوی وویرول، مګر خلقو د ده دعوت او بلنه ونه منله، او د نوح علیه السلام په تضلیل او تجهیل ئې لاس پوری کړ تر څو د طوفان لوی عذاب دوی ګرد (تول) سره ونیول او همغسی چه د نوح علیه السلام دعا وه:

﴿ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ دَيَّارًا ﴾ د ځمکې د مخې هيڅ يو کافر له الهٰی
عذابه خلاص نشو «بستانی» پخپل «دائرة المعارف» کښې د اروپائی محققانو اقوال هم د طوفان
او هم د طوفان د عموم په نسبت نقل کړی دی نوح عليه السلام زوی د لمک زوی د متوشلخ زوی
د اخنوخ يعنی ادريس عليه السلام دی.

قَالَ يٰقَوْمِ لَيْسَ بِیْ ضَلٰلَةٌ وَّلٰكِنِّیْ رَسُوْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٦١﴾
اُبَلِّغُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّیْ وَاَنْصَحُ لَكُمْ وَاَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٦٢﴾

وويل (نوح) ای قومه زما نشته په ما کښې «له سره» هيڅ ګمراهي وليکن
زه يم رسول «استاځی» له جانبه د رب (پالونکی) د ګردو (تولو) عالميانو.
رسوم تاسی ته پيغامونه د رب خپل او پند درکوم تاسی ته (محض دپاره د
نفع ستاسی) او پوهيږم له (جانبه د) الله (په وحی سره) په هغه چه پری نه
پوهيږئ تاسی.

**تفسير :** يعنی زه خو لږ څه هم نه يم بی لاری شوی، بلکه تاسی پخپله ګمراهان شوی يئ چه د
پاک الله رسول نه پيژنئ! چه په ډير فصاحت او بلاغت سره د الله تعالیٰ پيغام تاسی ته دررسوی او
ستاسی ښيګڼه (فايده) غواړی او تاسی ته ډير ښه پندونه درکوی او د الله تعالیٰ له جانبه ئې تاسی
ته داسی علوم او هدايت راوړی دی چه تاسی له هغو څخه ناپوهان او جاهلان يئ!

اَوَعَجِبْتُمْ اَنْ جَآءَكُمْ ذِكْرٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَلٰى رَجُلٍ مِّنْكُمْ
لِيُنْذِرَكُمْ وَلِتَتَّقُوْا وَلَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿٦٣﴾

آيا تعجب کوئ تاسی له دی چه راغلی دی تاسی ته ذکر (پند د وحی) له
لوری د رب ستاسی پر (ژبی د) يو سړی له «جنسه د» ستاسی دپاره د دی
چه وويروی دی تاسی او دپاره د دی چه پرهيزګاران شئ تاسی او دپاره د
دی چه پر تاسی باندی رحم وکړی شی.

**تفسير :** يعنی په دی کښی کومه خبره د تعجب وړ (لائق) ده چه پاک الله هم دا ستاسی له
منځه يو سړی د خپل پيغام رسولو له پاره غوره کړی؟ ځکه چه له ګردو (تولو) مخلوقاتو ځنی

پاک الله د خلافت د منصب له پاره آدم علیه السلام د مخصوصو استعدادونو پر بنا غوره کړ، نو بیا په دی کښی څه اشکال پاتی دی چه د آدم علیه السلام له اولادی څخنی نور کامل الاستعداد انسانان هم د نبوت او رسالت د منصب دپاره انتخاب کړل شی، تر څو دوی مستقیماً د پاک الله له لوری مستفیض شی، او نور خلق هم د هغوی څخه مستفید وګرځی او ګرد (تول) انسانان، دوی د مبدأ او معاد څخه خبر او مطلع کړی ـ چه هغوی د دغی لارښوونی او خبریدلو په اثر له «هغی» بدی او خرابی څخنی خپل ځان وژغوری (وساتی) چه په سبب د کفر او معصیت پر دوی راتلونکی دی او په دغی وسیلی سره د الله تعالیٰ د رحم او کرم مورد وګرځی، او د ده له قهر او غضب څخه خپل ځان وساتی.

فَكَذَّبُوهُ فَأَنْجَيْنَٰهُ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥ فِى ٱلْفُلْكِ وَأَغْرَقْنَا ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَآ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَوْمًا عَمِينَ ﴿٦٤﴾

پس نسبت د دروغو وکړ (کفارو دغه نوح) ته نو نجات مو ورکړ دغه «نوح» او هغو کسانو ته چه له ده سره (ملګری) وو په بیړی کښی او غرق مو کړل هغه کسان چه نسبت د دروغو ئی کړی ؤ آیتونو زمونږ ته، بیشکه دوی وو یو قوم ړانده (له حقه).

**تفسیر :** یعنی له هغو سره د نفعی او نقصان، او د حق او باطل هیڅ فکر او اندیښنه نه وه. ګردو (تولو) ځانونه ړانده کړی وو، او پرله پسی په سرکشی، تکذیب او بغاوت کښی یی تینګار(همیشه والی) کاوه او له بت پرستی او نورو متمردانه حرکاتو څخنی ئی لاس نه آخیستل، نو په شمار څو مؤمنان د دوی له منځه وژغورل (وساتل) شول، چه له نوح علیه السلام سره په بیړی کښی سواره شوی وو ـ نور ګرد (تول) مکذبین سره ډوب شول. اوس هومره انسانان چه په دنیا کښی شته، دوی د هم دی اهل السفینی بلکه د حضرت نوح علیه السلام له ذریاتو څخنی دی. (اهل السفینه «۸۰» مؤمنان وو «۴۰» تنه نارینه (۴۰) تنه ښځی. ځینی وائی چه ۹ تنه وو دری زامن د نوح علیه السلام سام، حام، یافث او شپږ تنه نور، او تول راکبین «۱۶۰» ذوی الارواح وو،).

وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا ۗ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥٓ ۚ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٦٥﴾

او (لیږلی ؤ مونږ قوم د) عاد ته «قومی» ورور د دوی هود، وویل «هود» ای قومه زما! عبادت کوئ تاسی د الله نشته تاسی ته هیڅ (حق) معبود بی له الله!، نو آیا تاسی نه ویریږئ (له عذابه د الله او پرهیز نه کوئ له شرکه).

**تفسیر :** هود علیه السلام زوی د عبدالله ابن رباح بن خلود بن عاد بن ارم بن سام بن نوح ؤ. او ځینی ئی پلار شالخ بن ارمخشد بن سام بن نوح علیه السلام وائی. «عاد» د حضرت نوح علیه السلام لمسی او د ارم له اولادی ځنی ؤ او هم ده ته منسوب دی. د دغه قوم سکونت د یمن په «احقاف» کښی ؤ. څرنګه چه حضرت هود علیه السلام له هم دی قوم څخه ؤ نو په هم دی لحاظ د دوی قومی او وطنی ورور شو. په دغو خلقو کښی بت پرستی منتشره شوی وه. روزی ورکولو، ورولو، روغولو او د نورو مختلفو حاجاتو او مطالبو او متعددو مقاصدو له پاره دوی بیل بیل بتان جوړ کړی وو، او د هغوی په عبادت کښی ګرد (تول) سره لګیا وو، نو هود علیه السلام وغوښتل چه دوی له هغو څخه ستانه (واپس) کړی او د دی عظیم جرم له سزا څخه ئی وویروی.

قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَوْمِهِ إِنَّا لَنَرَاكَ فِي سَفَاهَةٍ وَإِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ الْكَاذِبِينَ ﴿٦٦﴾

نو وویل مشرانو هغو چه کافران شوی وو له قومه د دغه (هود) بیشکه مونږ خامخا وینو تا (خبږ) په بی عقلی کښی او بیشکه مونږ خامخا ګمان کوو په تا له دروغجنانو.

**تفسیر :** یعنی معاذ الله ته پخپله بی عقل ئی چه د خپلو پلرونو او نیکه ګانو دود او دستور دی پریښی دی او د ګردو (تولو) له اخوت او ورور ګلوی څخه بیل شوی ئی او دروغجن هم ئی چه د خپلو اقوالو نسبت الله تعالیٰ ته کوی او مونږ له لوی عذاب څخه هم ویروی!.

قَالَ يَا قَوْمِ لَيْسَ بِي سَفَاهَةٌ وَلَٰكِنِّي رَسُولٌ مِّن رَّبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٦٧﴾ أُبَلِّغُكُمْ رِسَالَاتِ رَبِّي وَأَنَا لَكُمْ نَاصِحٌ أَمِينٌ ﴿٦٨﴾ أَوَعَجِبْتُمْ

أَنْ جَآءَكُمْ ذِكْرٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنكُمْ لِيُنذِرَكُمْ
وَاذْكُرُوٓا إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ مِنۢ بَعْدِ قَوْمِ نُوحٍ وَزَادَكُمْ
فِي الْخَلْقِ بَصْۜطَةً فَاذْكُرُوٓا ءَالَآءَ اللَّهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٦٩﴾

وویل «هود» ای قومه زما نشته په ما کښې (له سره) هیڅ بې عقلي ولیکن زه یم رسول «استاځی» له جانبه د رب «پالونکی» د ګردو (تولو) عالمیانو دررسوم تاسی ته پیغامونه د رب خپل او زه تاسی ته نصیحت کوونکی ښه امانت ګر یم.
آیا تعجب کوئ تاسی له دی چه راغلی دی تاسی ته ذکر (پند) له «لوری د» رب ستاسی پر «ژبه د» یوه سړی له تاسی دپاره د دی چه وویروی دی تاسی، او یاد کړئ تاسی هغه وخت چه ګرځولی وئ (الله) تاسی خلیفګان (په ځمکه کښې) وروسته له «غرقیدلو د» قوم د نوح او زیات کړی ئی دی تاسی ته په پیدائښت کښې قوت، قامت اوږدوالی، نو یادوئ تاسی نعمتونه (احسانونه) د الله ښائی چه تاسی خلاصی ومومئ! (له عذابه د الله).

**تفسیر**: هود علیه السلام د خپل قوم په ځواب کښې وویل زما هیڅ یوه خبره د بې عقلی خبره نه ده هو! هغه د رسالت منصب چه د الله تعالیٰ له خوا ماته راکړی شوی دی، زه د هغه حق اداء کوم، دا ستاسی بې عقلی ده چه خپل هغه حقیقی خیر غوښتونکی هم نه پیژنئ! چه د ده امانت او دیانت لا له پخوا څخه د اعتماد او دادینی او اطمینان وړ (لائق) ؤ. اوس تاسی په خپلی دغی وینا سره چه ماته بې عقل وایئ خپلو ځانونو ته زیان او نقصان رسوئ آیا تعجب کوئ تاسی له دی نه چه راغلی دی تاسی ته پند له جانبه د رب ستاسی پر ژبه د یوه سړی له جنسه ستاسی دپاره د دی چه وویروی تاسی له عذابه د الله او یاد کړئ تاسی هغه وخت چه ګرځولی وئ الله تاسی خلیفګان په ځمکه کښې وروسته د غرقیدلو د قوم د نوح علیه السلام یعنی الله تعالیٰ پس له نوح علیه السلام په دنیا کښې ستاسی حکومتونه قائم کړل او د ده په ځای ئی تاسی ودرولئ او هلته مو ودانی وکړه ښائی چه هود علیه السلام دغه احسان دوی ته ور په یاد کړی وی، او د دغی خبری تنبیه ئی ورته ورکړی وی چه د بت پرستی او تکذیب الرسول له امله (وجی) هغه پیښی چه هغوی ته وریپښی شوی وی نه ښائی چه تاسی ته هم درپیښی شی.
او زیات کړی دی الله تاسی ته په پیدائښت کښې قوت او قامت او اوږدوالی چه د جسمانی قوت، طول، عرض، شجاعت او حماست په اعتبار تاسی ډیر یو نومیالی او مشهور قوم یئ نو یاد کړئ تاسی نعمتونه د الله ښائی چه تاسی خلاصی ومومئ له عذابه د الله دغه احسانات چه مذکور شول او برسیره پر هغو نور بې شماره احسانات ئی ور په یاد کړل او ور په زړه ئی کړل چه ښائی

د هغه پاک الله شکر گذاری وکړئ! او گرد (تول) احکام ئی ومنئ! او له سره تاسی ته نه ښائی چه د هغه حقیقی منعم په مقابل کښی بغاوت وکړئ او غاړه تری وغړوئ!.

قَالُوٓا أَجِئْتَنَا لِنَعْبُدَ اللَّهَ وَحْدَهُ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعْبُدُ آبَاؤُنَا ۖ فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ ﴿٧٠﴾

وویل عادیانو (هود ته) آیا راغلی ئی ته مونږ ته د دی دپاره چه عبادت وکړو مونږ د الله یواځی او پریږدو هغه (بتان) چه وو چه عبادت به کاوه «د هغو» پلرونو زمونږ نو راوړه مونږ ته هغه عذاب چه ته «پری» ویروی مونږ که ئی ته له صادقانو (رښتیا ویونکو په خبرو خپلو کښی)

تفسیر : یعنی له هغه عذابه چه مونږ ویروی که ته رښتین ئی نو ئی ژر راوړه، مونږ خو د بتانو عبادت نه پریږدو او د خپلو پلرونو له دستوره لاس نه آخلو.

قَالَ قَدْ وَقَعَ عَلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ رِجْسٌ وَغَضَبٌ ۖ أَتُجَادِلُونَنِي فِي أَسْمَاءٍ سَمَّيْتُمُوهَا أَنتُمْ وَآبَاؤُكُم مَّا نَزَّلَ اللَّهُ بِهَا مِن سُلْطَانٍ ۚ فَانتَظِرُوا إِنِّي مَعَكُم مِّنَ الْمُنتَظِرِينَ ﴿٧١﴾

وویل «هود» په تحقیق واقع «واجب» شو پر تاسی له (لوری) د رب ستاسی عذاب او قهر، آیا جگړه کوئ تاسی له ما سره په هغو «تشو» نومونو کښی چه ایښی دی هغه «نومونه» تاسی او پلرونو ستاسی حال دا چه نه دی رالیږلی الله. په عبادت کولو د دوی هیڅ برهان علمی سند، نو انتظار کوئ تاسی (د عذاب) بیشکه زه چه یم له تاسی سره له منتظرانو څخه یم.

تفسیر : یعنی کله چه ستاسی سپین سترگی، سرکشی، گستاخی او بی حیائی تر دی حده پوری رسیدلی ده نو وپوهیږئ چه د الله تعالیٰ قهر او غضب پر تاسی نازل شوی دی. او اوس د هغه په راتلو کښی هیڅ ځنډ (تاخیر) او ډیل کیدونکی نه دی.

تاسی چه بتانو ته داسی وایئ: هغه روزی ورکوی، او دغه باران اوروی او دا اولاد زیږوی وقس علیٰ هذا. دغه تش یو نوم او یوازی بی حقیقته یو مفهوم دی او بیخی واقعیت او حقیقت نه لری د الوهیت صفات په تیری (ګتی) او نورو مخلوقاتو کښی له کومه راغلل؟ بیا نو د داسی معبودانو په نسبت چه په هغوی کښی د معبودیت هیڅ یو عقلی او نقلی سند نشته بلکه په تولو عقلی او نقلی اسنادو سره ئی تردید کیږی له ماسره د توحید په مسئله کښی ولی جګړی او بحثونه کوئ؟ کله چه ستاسی د جهل او شقاوت او عناد جام دومره ډک شوی وی، نو انتظار وکړئ چه الله تعالیٰ د دغو ګردو (تولو) جګړو فیصله «پریکړه» وکړی، زه هم د همغه فیصلی ته منتظر یم.

فَأَنجَيْنَٰهُ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَقَطَعْنَا دَابِرَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا ۖ وَمَا كَانُوا۟ مُؤْمِنِينَ ﴿٧٢﴾

نو خلاصی ورکړ مونږ دغه هود ته او هغو کسانو ته چه له ده سره وو په رحمت سره له (جانبه) زمونږ او پری کړ مونږ بیخ د هغو کسانو چه نسبت د دروغو ئی کړی ؤ په آیتونو زمونږ او نه وو دوی مؤمنان «یقین کوونکی په وحدت او نبوت».

**تفسیر** : یعنی پر دوی اووه شپی او اته ورځی مسلسل د سخت باد طوفان (سیلئ) راغله، چه د هغی په اثر ګرد (تول) کفار توتی توتی او هلاک او پو پناه شول. دا خو د «عادالاولیٰ» انجام ؤ. او د دغه قوم بله پیښه او څانګه «ثمود» چه هغوی ته «عاد الثانیه» هم وائی د هغه ذکر په دغه مبارک آیت کښی راځی چه هم دا اوس ئی مونږ په تلاوت افتخار مومو.

وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَٰلِحًا ۗ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥ ۖ قَدْ جَآءَتْكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ ۖ هَٰذِهِۦ نَاقَةُ ٱللَّهِ لَكُمْ ءَايَةً ۖ فَذَرُوهَا تَأْكُلْ فِىٓ أَرْضِ ٱللَّهِ ۖ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٣﴾

وَاذْكُرُوٓا إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ مِنۢ بَعْدِ عَادٍ وَبَوَّأَكُمْ
فِى ٱلْأَرْضِ تَتَّخِذُونَ مِن سُهُولِهَا قُصُورًا وَتَنْحِتُونَ
ٱلْجِبَالَ بُيُوتًا ۖ فَاذْكُرُوٓا ءَالَآءَ ٱللَّهِ وَلَا تَعْثَوْا فِى ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿٧٤﴾

او «لیږلی ؤ مونږ» ثمودیانو ته «قومی» ورور د دوی صالح. وویل «صالح» ای قومه زما، عبادت کوئ تاسی د الله نشته تاسی ته هیڅ «حق» معبود بی له دغه «الله»، په تحقیق راغلی ده تاسی ته ښکاره معجزه له «لوری د» رب ستاسی، دا اوښه د الله ده تاسی ته نښه نو پریږدئ تاسی دغه «اوښه» چه خوری «واښه» په ځمکه د الله کښی او مه وروړئ تاسی لاسونه دی ته په «نیت د» بدی «یعنی ضرر مه وررسوئ» نو وبه نیسی تاسی عذاب دردناک. «وویل صالح» او یاد کړئ تاسی هغه وخت چه وګرځولئ «الله» تاسی خلیفګان وروسته له عادیانو او ځای ئی درکړو تاسی ته په ځمکه کښی چه نیسئ «جوړوئ» تاسی له هوارو نرمو ځایونو د دی ځمکی هسکی (اوچتی) مانی او کنئ تاسی غرونه دپاره د کورونو، نو یاد کړئ تاسی نعمتونه د الله او مه ګرځئ «کوښښ مه کوئ» تاسی په ځمکه کښی حال دا چه قصد کوونکی د فساد یئ.

**تفسیر** : یعنی هغه دلیل چه تاسی غوښت دوررسید. د صالح علیه السلام قوم له ده سره عهد او اقرار کړی ؤ چه که ته د یوی غتی لوئی تیږی (ګټی) څخه یوه بلاربه اوښه راوباسی، نو مونږ به پر تاسی ایمان راوړو. الله تعالیٰ د صالح علیه السلام په دعاء هم داسی وکړه. نو صالح علیه السلام چه زوی د عبید زوی د اسف زوی د ماسح زوی د عبید زوی د حاذر زوی د ثمود ؤ دوی ته وویل چه ځئ! اوس خو پاک الله ستاسی له غوښتنی سره سم هغه اوښه له دغی کلکی لوئی تیږی (ګټی) څخه راوویسته. نو اوس په ایمان راوړلو کښی ولی ډیل او تامل کوئ؟ دغه اوښه د الله تعالیٰ د قدرت او زما د صداقت نښه ده، چه زما په دعاء په غیر معتاده طریقه سره الله تعالیٰ پیدا کړه - نو د دی د حقوقو رعایت وکړئ! مثلاً د الله تعالیٰ په ځمکه کښی د مباحو وښو له خوراکه او د وار د اوبو د چښلو څخه ئی مه منع کوئ! الغرض د الله تعالیٰ دی نښی ته چه ستاسی په غوښتنی سره په وجود راغلی ده، په بده وضع سره مه ورإندی کیږئ! که نه تاسی ته به هم خیر نه در پیښیږی او یاد کړئ تاسی هغه وخت چه وګرځولئ الله جل جلاله تاسی خلیفګان پس له عادیانو او ځائ درکړ تاسی ته په ځمکه کښی چه جوړوئ تاسی له هوارو نرمو ځایونو د

دی ځمکی هسکی (اوچتی) مانی او کنډ تاسی غرونه دپاره د کورونو نو یاد کړئ تاسی نعمتونه د الله او مه ګرځئ او کوښښ مه کوئ تاسی په ځمکه کښی حال دا چه تاسی قصد کوونکی د فساد یئ یعنی مه له خیره منکریږئ! او مه شرک او کفر سره په ځمکه کښی فتنه او فساد خوروئ! بلکه د الله تعالیٰ په وحدانیت او زما په نبوت شهادت ورکړئ! او د اصلاح او مصالحت په طرف مسارعت وکړئ!

---

قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا مِنْ قَوْمِهِ لِلَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا
لِمَنْ آمَنَ مِنْهُمْ أَتَعْلَمُونَ أَنَّ صَالِحًا مُرْسَلٌ مِنْ رَبِّهِ ۚ قَالُوا
إِنَّا بِمَا أُرْسِلَ بِهِ مُؤْمِنُونَ ﴿٧٥﴾ قَالَ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا
إِنَّا بِالَّذِي آمَنْتُمْ بِهِ كَافِرُونَ ﴿٧٦﴾

---

وویل مشرانو هغو چه کبر «او سرکشی» ئی کړی وه «له ایمانه» له قومه د دغه «صالح» څخه هغو کسانو ته چه ضعیف «او کمزوری» ګڼلی شوی وو هغه چاته چه ایمان یی راوړی ؤ له دوی څخه آیا یقین لرئ تاسی په دی چه بیشکه صالح مرسل «رالیږلی شوی دی تاسی ته» له «لوری د» رب د ده وویل دغو «ضعفاؤ چه هو!» بیشکه مونږ په هغه «توحید او عبادت» چه رالیږلی شوی «صالح» په هغه مؤمنان «یقین لرونکی» یو. وویل هغو کسانو چه لوئی تکبر ئی کړی ؤ بیشکه مونږه په هغه شی چه ایمان راوړی دی تاسی په هغه باندی کافران «منکران» یو.

---

**تفسیر** : یعنی په قوم کښی هغه چه لویان، متکبران او مشران معاندان وو، دغو غټانو به غریبو او کمزورو مسلمانانو ته د استهزاء په ډول (طریقه) وویل چه آیا لوی سړی تر اوسه پوری نه دی پوهیدلی مګر دغه خبره یواځی تاسی ته معلومه شوی وه، چه صالح د الله تعالیٰ رسول دی؟ مسلمانانو به په ځواب کښی دوی ته وویل چه معلومیدل څه معنی لری ـ دغه خبره خو تاسی ته هم معلومه ده. هو! مونږ خو حضرت صالح علیه السلام د زړه له کومی او اخلاصه قبول کړی دی، او ایمان مو پری راوړی دی متکبران به د داسی حکیمانه ځوابونو له آوریدلو څنی شرمیدل او وویل به ئی هغه شی چه تاسی قبول کړی دی مونږ ئی نه قبلوو. نو ستاسی د څو تنو ضعفاؤ او بی وزلانو د ایمان راوړلو څنی کوم لوی بری په لاس راتلی شی؟.

فَعَقَرُوا النَّاقَةَ وَعَتَوْا عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ وَقَالُوا يَٰصَٰلِحُ ائْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِن كُنتَ مِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴿٧٧﴾

نو زخمي او مړه کړه دوی اوښه او سرکشي وکړه دوی له امره (حکمه) د رب خپل او وویل دغو (کفارو چه) ای صالحه! راوړه مونږ ته هغه عذاب چه ته ویروی مونږ ترې که ئې ته له مرسلانو «په حقه سره»

تفسير : وائې دغه اوښه دومره عظیم الجثه لویه او ببره وه چه په هر ځنګله کښې به ځي ته ورتله نو نور مواشي به له دې ځنې ویریدل او لرې به ترې تښتیدل او په خپل وار به په هر یوه کوهي باندې چه دریدله د هغه کوهي تولې اوبه، به ئې څښلې او هغه به ئې تش او خالي پرېښود: ګواکې همغسې چه د دې پیدائښت فوق العاده ؤ، ګرد (تول) لوازم او د ژوندانه آثار ئې فوق العاده وو، بالاخره کافران پرې په قهر او غصه شول، او د دې پر وژلو ئې اتفاق او تړون وکړ او بدبخت (قذار بن سالف) ئې پومبنی پړکی پرې کړل او بیا یې ووژله وروسته د صالح علیه السلام وژلو ته هم تیار شول او په دې دول (طریقه) د صالح علیه السلام او د «ناقة الله» په نسبت څه احکام چه صادر شوی وو، د هغو مخالفت ئې وکړ او دغو کفارو وویل چه ای صالحه! راوړه مونږ ته هغه عذاب چه ته ویروی مونږ ترې که ئې ته له مرسلانو په حقه سره داسې کلمات د انسان له ژبې څخه په هغه وخت کښې وځي چه د الله تعالیٰ له قهر او غضبه بیخي بې خوفه او بې پروا شي. «د عاد الاولیٰ» په شان «ثمود» هم داسې یوې مرتبې ته ورسیدل، چه د الٰهي عذاب مورد وګرځیدل، چه د دې ذکر دا دی:

فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دَارِهِمْ جَٰثِمِينَ ﴿٧٨﴾

پس ونیول دوی زلزلې (پس له آوریدلو د سختې چیغې) نو وګرځیدل دوی «ګهیځ ـ سحر» په کورونو خپلو کښې مړه پرمخې پراته.

تفسير : په بل آیت کښې ئې د دوی هلاک په «صیحې» یعنی چغې سره بیان فرمایلی دی، ښائي چه له لاندې به زلزله او له پاسه به دیره سخته ویروونکې چغه شوې وي.

فَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَٰقَوْمِ لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ

رِسَالَةَ رَبِّيْ وَنَصَحْتُ لَكُمْ وَلٰكِنْ لَّا تُحِبُّوْنَ النّٰصِحِيْنَ ﴿۷۹﴾

نو وګرځیده (صالح) له دوی «او لاړ تری متأسفاً» او وویل ای قومه زما قسم دی خامخا په تحقیق ورساوه ما تاسی ته پیغام د رب خپل او پند می درکړ تاسی ته ولیکن نه خوښوئ تاسی پند ورکوونکی.

**تفسیر :** وائی چه حضرت صالح علیه السلام د خپل قوم د هلاکت څخه وروسته د مکی معظمی یا د شام په لوری لاړ او د خپل تګ په وخت کښی ئی د دوی د مړو انبارونه ولیدل او داسی خطاب ئی وکړ لکه چه زمونږ رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د بدر مقتولینو ته خطاب کړی ؤ. یا یوائحی د تحسر او تاسف په ډول (طریقه) به ئی یو فرضی خطاب کړی وی. لکه چه د ادباء، شعراء خرابو، اطلالو (کنډوالو) او نورو سره داسی خبری اتری او مخاطبی کوی ځینی وائی چه دغه خطاب پخوا له هلاکته ؤ یعنی کله چه ثمودیانو هغه اوښه حلاله کړه او د عذاب الله ور ئی پر خپلو ځانونو وپرانیستله نو په دی صورت به په کلام کښی د واقعاتو د ترتیب مراعات نه وی شوی، په هر حال په دغه خطاب سره د نورو تنبیه او آورول مقصود ؤ۔ چه ښائی تاسی د خپلو معتبرو خیر غوښتونکو خبری قبولی کړئ او هر څوک چه د خپل حقیقی خیر غوښتونکی خبرو ته غوږ نه ږدی او نه ئی منی او قدر ئی نه کوی نو هم داسی له بدی نتیجی سره مخامخ کیږی.

وَلُوْطًا اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ اَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ مَا سَبَقَكُمْ بِهَا مِنْ اَحَدٍ مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۸۰﴾

او «یاده کړه ای محمده دوی ته قصه د» لوط کله چه وویل قوم خپل ته آیا راتګ کوئ تاسی ډیر بد کار «لواطت» ته چه نه دی ړومبی شوی له تاسی څخه دی کار ته هیڅ یو له تولو خلقو «نو تاسی ئی هم مه کوئ!».

**تفسیر :** لوط علیه السلام د ابراهیم علیه السلام وراره ؤ. چه له ده سره عراق څخه شام ته راغی او د الله تعالیٰ له خوا د سدوم او د هغه د شاؤ خوا د کلیو په لوری مبعوث شوی ؤ چه د هغو ځایونو د خلقو اصلاح وکړی او دوی له هغه خراب ګنده خلاف الفطرت او د بی حیایی له کارونو څخه وژغوری (وساتی) چه په هغو سره د هغو ځایونو خلق نه یوائحی اخته او مبتلا وو بلکه دوی د دغی بی حیائی موجدان او مبتکران هم وو. او پخوا له دوی نه په دنیا کښی په دغی اخلاقی ناروغی هیڅوک نه ؤ مبتلا او نه تری خبر وو۔ اول شیطان دغه ملعون حرکت د «سدوم» اوسیدونکو ته وروښود، او بیا له هغه ځایه نورو ځایونو ته تیت (خور) او منتشر شو. حضرت لوط علیه السلام د دوی د دغه ملعون او شنیع حرکت له بدو عواقبو څخه دوی ته خبردار او تنبیه ورکړه او غوښتل ئی چه دغه پلیتی او ګندګی له دنیا محوه او ورکی شی. سری ته د موجوده

انجیل (بائیبل) په لیکونکی او تولوونکی باندی قهر راځی چه هغوی د داسی پاک معصوم او سپیڅلی رسول په نسبت چه له دنیا څخه د دی بی حیائی او ګندګی د ورکولو لپاره زیات زیار (کوشش) ایستلی دی د داسی نامناسبو او ناولیو حرکاتو نسبت کړی دی العیاذ بالله چه د هغو د اوریدلو او لوستلو څخه د هر حیاناک سړی غونی ځیږیږی، ویښتان ئی دریږی او زنګنونه ئی ریږدی:

﴿ كَبُرَتْ كَلِمَةً تَخْرُجُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ إِن يَقُولُونَ إِلَّا كَذِبًا ﴾ «۱۵ جزء د الکهف ۵ آیت ۱ رکوع»

إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الرِّجَالَ شَهْوَةً مِّن دُونِ النِّسَاءِ ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ ﴿٨١﴾

بیشکه تاسی خامخا راځئ سړیو ته د پاره (د قضاء) د شهوت په دی حال کښی چه تجاوز کوونکی یئ له (خپلو) ښځو «نو نه یئ په حقه لاره»، دا لا څه بلکه یئ تاسی یو قوم اسراف کوونکی «له شرعی حده تیریدونکی په هر شی کښی».

تفسیر : یعنی یواځی هم دا نه ده چه د هم دی یوی ګناه مرتکب شوی یئ، بلکه د دی خلاف الفطرت فعل ارتکاب د دی خبری دلیل دی چه تاسی د انسانیت له حدوده هم وتلی یئ.

وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ إِلَّا أَن قَالُوا أَخْرِجُوهُم مِّن قَرْيَتِكُمْ ۖ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ ﴿٨٢﴾ فَأَنجَيْنَاهُ وَأَهْلَهُ إِلَّا امْرَأَتَهُ كَانَتْ مِنَ الْغَابِرِينَ ﴿٨٣﴾

او نه ؤ ځواب د قوم د دغه (لوط د نصیحت په مقابل کښی) مګر خو داسی چه ویل قوم د لوط (په خپلو منځو کښی چه) وباسئ «وشړئ» تاسی دغه «لوط او تابعان ئی» له قریی ستاسی (سدوم)»، بیشکه دوی داسی خلق دی چه په تکلف سره ځان پاکوی (زمونږ له افعالو). نو نجات ورکړ مونږ دغه «لوط» ته او اهل «اتباعو» د ده ته مګر ښځه د ده، چه وه له پاتی کیدونکو (په عذاب کښی).

تفسیر : یعنی دوی بالاخر داسی وویل: هر کله چه لوط علیه السلام مونږ ګرد (تول) پلیت او نجس ګڼی او خپل ځان پاک بولی او له مونږ څخنی ډډه کوی نو له بدانو سره د نیکانو څه غرض دی؟ نو ځکه دوی ګرد (تول) سره په دی فکر کښی ولویدل چه لوط علیه السلام له خپله

منځه وباسي ـ او خپل ځانونه له دغې هرې ورځنۍ جګړې څخه بیخي وژغوري (وساتي). خو د دغو ملعونانو له لاسه کله دغه خبره پوره وه، هو! الله تعالیٰ په خپل فضل او کرم سره لوط علیه السلام د متعلقینو سره صحیح، سالم په عزت او عافیت، له دغه کلي څخه وویست، او په دغو کلي والو ئې عذاب مسلط کړ چه ذکر ئې وروسته راځي، د لوط علیه السلام د متعلقینو ځنې یواځې د ده ښځه ورځنۍ بیله پاتې شوه او د نورو معذبینو سره هلاکه شوه، ځکه چه د دی دود او دستور د هم دغو معذبینو په شان ؤ د لوط علیه السلام کره به چه کوم میلمه راته یا به کومه خبره پیښیده، د هغې اطلاع به هم دی ښځې کفارو ته ورکوله او کفارو ته ئې د بدو کارونو په لوری ترغیب ورکاوه. یا لکه چه ځینو لیکلي دي د نارینه ؤ په شان په ښځو کښې هم د «مساحقه» رواج عمومیت موندلی ؤ په هر حیث عذاب پر ګردو (تولو) هغو کسانو نازل شو چه په دغه مهلک مرض کښې مبتلا او اخته وو. او په پوره زور او قوت سره د خپل نبي په مقابل کښې ولاړ شوي وو او د ده تکذیب به ئې کاوه یا د کفر او فحش په اصولو کښې د دوی معاونین او مرستیالان (مدد ګاران) وو.

وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًا ۖ فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِينَ ﴿٨٤﴾

او اووراوه مونږ په دوی باندی باران «د کانو هلاک مو کړل»، پس وګوره ته چه څرنګه شو عاقبت (بده خاتمه) د ګنهګارانو «چه هلاک شول په عذاب سره».

**تفسیر :** په بل ځای کښې مذکور دی چه دیر کلي واړول شول او د تیږو (ګټو) باران اوریده. د ځینو ائمه ؤ په نزد اوس هم ښائي چه لوطي ته هم داسې سزا ورکړه شي. چه له کوم غره یا یوه لوړ ځای څخه وغورځاوه شي او له پاسه په کانو وویشتل شي او په دیر سخت بوی ناک او ګنده ځای کښې بندی کړی شي. او زمونږ د حنفیانو په مذهب کښې دغه سزاګانې تعزیراً جواز لري نه حداً

﴿ فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِينَ ﴾ وګوره ته چه څرنګه شو عاقبت او بده خاتمه د ګنهګارانو کافرانو چه هلاک شول په عذاب سره) یعنې د ګناه د ارتکاب او کولو په وخت د هغې بد انجام د دوی تر سترګو لاندې نه راځي، د عاجلو شهوتونو او لذتونو د غلبې په وخت کښې د لیونیانو په شان د داسې منیاهیو په کولو کښې لګیا کیږي چه له عقل او انسانیت څخه بیخي مخالف دي. لیکن عقلمن سړی ته ښایي چه د نورو د واقعاتو له لیدلو او اوریدلو څخه پند او عبرت حاصل کړی! او د بدی بد انجام دی همیشه تر نظر لاندې ونیسي!

وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا ۗ

او (لیږلی مو ؤ) مدین ته «قومی» ورور د دوی شعیب،

**تفسیر** : د قرآن کریم په بل ځای کښی ذکر شوی چه حضرت شعیب علیه السلام «اصحاب الایکه» ته مبعوث شوی دی ـ که اهل المدین او (اصحاب الایکه) دواړه سره هم دغه یو قوم وی فبها ونعمت او که سره دوه بیل بیل قومونه وی نو دغو دواړو ته به مبعوث شوی وی. په دغو دواړو قومونو کښی به په تول او پیمانه کښی د کمولو مرض مشترک وی په هر حال حضرت شعیب علیه السلام د توحید او نور عمومی دعوت او بللو څخه سربیره خلق یی د معاشرتی معاملاتو د خصوصی اصلاح او د حقوق العباد د حفاظت او ساتلو په نسبت هم په ډیر تاکید او فعالیت سره متوجه کړځولی لکه چه په وروستنیو آیتونو کښی مذکور دی. د ډیر فصاحت او کامل بلاغت له امله (وجی) شعیب علیه السلام په «خطیب الانبیاء» سره ملقب دی او د مکیل بن یشجر بن مدین بن ابراهیم زوی ؤ.

قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ قَدْ جَآءَتْكُمْ بَيِّنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ

ووییل (شعیب چه) ای قومه زما عبادت کوئ د الله نشته تاسی ته هیڅ معبود بی له ده، په تحقیق راغلی دی تاسی ته دلیل ښکاره له (لوری د) رب ستاسی.

**تفسیر** : یعنی زما د صداقت دلیل ظاهر شوی دی، که زه د نصیحت خبره تاسی ته وکړم هغه قبوله کړئ! او په هغو خطرناکو عواقبو چه تاسی خبروم، له هغو څخنی ځان وژغورئ!(وساتئ) او د خپل خیر او شر په باره کښی هوښیار اوسئ.

فَاَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيْزَانَ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ اَشْيَآءَهُمْ وَلَا تُفْسِدُوْا فِى الْاَرْضِ بَعْدَ اِصْلَاحِهَا ؕ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۸۵﴾

نو پوره کوئ تاسی پیمانه «خلقو ته» او تله (تول هم) او کم مه ورکوئ تاسی خلقو ته شیونه (حقونه) د دوی او فساد «خرابی» مه کوئ تاسی په ځمکه کښی (په کفر او خیانت سره) پس له اصلاح د دی دغه «اصلاح او امانتداری» خیر «ډیر بهتر» دی تاسی ته که یئ تاسی ایمان راوړونکی.

**تفسير :** د بندګانو د حقونو رعایت او یو تر بله سره د معاملاتو د ساتنې مزیت چه نن زمونږ د زمانې پرهیزګاران هم چندانې توجه ورته نه لرې، د الله تعالیٰ په نزد دومره اهم شی دی، چه هغه ئې د یوه جلیل القدر رسول مخصوصه وظیفه مقرره کړه او د هغه د مخالفت له سببه یو قوم پوپناه شو۔ په دغو آیتونو کښې د حضرت شعیب علیه السلام په ژبه خبر راکړی شوی دی چه خلقو ته د دیر لږ مالی ضرر، تاوان رسونه او په وطن کښې وروسته د اصلاحی حالت له قیامه خرابی، فتنه او فساد آچول که د شرک او کفر په صورت وی، یا د ناحقه وژلو۔ لوټ کولو او نورو مناهیو په شکل وی، دا ګرد (تول) ممنوع دی او د هیڅ یو ایماندار انسان له اعمالو څخه دا نشی کیدی چه خلقو ته د دوی حقوق ورکړی ۔ او په امانت کښې خیانت وکړی ۔ یا په وطن کښې اله ګوله او شور ماشور جوړ کړی

وَلَا تَقْعُدُوا بِكُلِّ صِرَاطٍ تُوعِدُونَ وَتَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ بِهٖ وَتَبْغُونَهَا عِوَجًا ۚ

او مه کینئ تاسی پر هر لاره «له پاره د شکولو» حال دا چه ویروئ تاسی (خلق) او منع کوئ تاسی (خلق) له لاری د الله هغه څوک چه ایمان راوړی په الله باندی او لټوئ تاسی دی «لاری» ته کوږوالی «عیب»،

**تفسير :** پر لارو ناستی دوه سببونه درلودل (لرل) ـ یو له تلونکو، راتلونکو، او مسافرینو څخه په ظلم او جبر اموال او اسباب اخیستل او بل د حضرت شعیب علیه السلام له ملاقاته او د الله تعالیٰ له توحید او دین څخه د مؤمنانو منع کول او د الهٰی دین په نسبت د عیب لټولو او اعتراض کولو په فکر کښې اوسیدل.

وَاذْكُرُوٓا إِذْ كُنْتُمْ قَلِيلًا فَكَثَّرَكُمْ ۖ وَانْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ ﴿٨٦﴾

او یاد کړئ تاسی. هغه وخت چه وئ تاسی لږ «په سړیو او مالونو کښې» نو دیر کړئ (الله) تاسی او وګورئ تاسی چه څرنګه شو عاقبت «بده خاتمه» د فساد کوونکو «چه وو پخوا له تاسی».

**تفسير :** یعنی په سړیو او په دولت دواړو کښې تاسو لږ وئ، الله تعالیٰ تاسی ته له دواړو خواؤ نه تزئید در په برخه کړ، ستاسی شمیر هم زیات شو، او د شتو او دولت خاوندان هم شوئ تاسی د الله تعالیٰ د دی احسانانو شکر ادا کړئ! او د پاک الله شکر هلته ادا کیږی چه تاسی د

خالق تعالیٰ او د «مخلوق الله» حق په ښه شان سره وپيژنئ! او قولاً او عملاً په اصلاحاتو کښې مشغول اوسئ او په نعمتونو مغرور نه شئ! او د فساد کوونکو او خرابی آچونکو هغه انجام چه پخوا له دی نه واقع شوی دی، هغه تل تر سترګو لاندی ونیسئ، او د الله تعالیٰ له انتقام او نیولو څخه تل وویرېږئ.

وَإِن كَانَ طَآئِفَةٌ مِّنكُمْ ءَامَنُوا۟ بِٱلَّذِىٓ أُرْسِلْتُ بِهِۦ وَطَآئِفَةٌ لَّمْ يُؤْمِنُوا۟ فَٱصْبِرُوا۟ حَتَّىٰ يَحْكُمَ ٱللَّهُ بَيْنَنَا ۚ وَهُوَ خَيْرُ ٱلْحَٰكِمِينَ ﴿٨٧﴾

او که وه يوه طائفه له تاسي چه ايمان ئې راوړی ؤ په هغه شي چه راليږلی شوی يم زه په هغه سره او (وه بله) طائفه چه ايمان ئې نه ؤ راوړی (عناداً) نو صبر کوئ تاسي «ای مؤمنانو!» تر هغه پوری چه حکم (فيصله وکړی) الله په منځ زمونږ کښې او هم دی خير («بهتر») دی له تولو حکم (فيصله) کوونکو («چه ظلم نشته د ده په حکم کښې»)

**تفسير:** يعنی هغه شي چه ما له خپله ځانه سره راوړی دی، که تاسي په متفق ډول (طريقه) نه منئ بلکه دا خبره مو غوته کړی ده چه خامخا له هغه سره اختلاف وکړو، نو لږ څه صبر وکړئ! چه د آسمان له لوری زما او ستاسي د اختلاف فيصله وشي.

قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا مِن قَوْمِهِ لَنُخْرِجَنَّكَ يَٰشُعَيْبُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَكَ مِن قَرْيَتِنَا أَوْ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَا ۚ قَالَ أَوَلَوْ كُنَّا كَارِهِينَ ﴿٨٨﴾

وویل مشرانو هغو چه کبر (او سرکشي) ئې کړې وه «له ایمان راوړلو څخه» له قومه د دغه شعیب خامخا وباسو مونږ تا «(ای شعیبه!)» او هغه کسان (هم درسره وباسو) چه ایمان ئې راوړی دی له تا سره له «دی» کلي (ښار) زمونږ څخه یا خامخا به راګرځئ تاسی دین زمونږ ته؛ نو وویل «(شعیب)» آیا (ګرځو به مونږ ستاسی دین ته) او اګر که اوسو مونږ ناخوښه (هم بلکه نه ګرځو!)

**تفسیر:** «عود» د یوه شي څخه وتل او بیا د هغه په لوري بیرته ورتللو ته وائی د حضرت شعیب علیه السلام د ملګرو په نسبت دغه لفظ حقیقتاً صادقیدی شي. ځکه چه هغوی له کفره وتلی او په اسلام کښې داخل شوی وو نو په خپله د حضرت شعیب علیه السلام په نسبت دغه تصور له سره نشي کیدی چه معاذ الله دی ړومبی د کفارو په ملت کښې داخل ؤ او بیا مسلمان شوی دی لامحاله یا خو به د حضرت شعیب علیه السلام په اعتبار دغه خطاب تغلیباً وی ـ یعنی د عامو مؤمنانو په حق کښې هغه الفاظ چه استعمال شوی، غالبه اکثریت ئې مرجع ګڼلی دی او د حضرت شعیب علیه السلام له پاره ئې بیل الفاظ نه دی اختیار کړی، یا دغه لفظ د حضرت شعیب علیه السلام په حق کښې د کفارو په زعم سره موافق ویلی شوی دی. ځکه چه پخوا له بعثته تر هغه وخته پوری چه حضرت شعیب علیه السلام خپل دعوت او تبلیغ نه ؤ شروع کړی نو د مدین د خلقو د کفریاتو په متعلق د ده د سکوت له لیدلو ځنی ښائی دغو کفارو ته به داسی ګمان پیدا شوی وی، چه دی هم زمونږ له حاله سره شامل او زمونږ په طور او طریقي راضی او خوښ دی یا «عود» مجازاً د مطلق صیرورت په معنی واخیست شي کما قاله بعض المفسرین.
﴿قَالَ أَوَلَوْ كُنَّا كَارِهِينَ﴾ نو وویل شعیب آیا ګرځو به مونږ ستاسی دین ته اګر که اوسو مونږ ناخوښه هم؟ بلکه نه ګرځو!» یعنی د دلائلو او براهینو په رڼا (رڼرا) کښې ستاسی د دی مهلکو کفریاتو څخه اګر که مونږ ډیر ناخوښه، بیزاره او توبه ګاره یو نو آیا تاسی بیا هم د زهرو جام په زوره پر مونږ باندی څښئ؟

قَدِ افْتَرَيْنَا عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا إِنْ عُدْنَا فِي مِلَّتِكُم بَعْدَ إِذْ نَجَّانَا اللّٰهُ مِنْهَا ۚ وَمَا يَكُونُ لَنَا أَن نَّعُودَ فِيهَا إِلَّا أَن يَشَاءَ اللّٰهُ رَبُّنَا ۚ وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ۚ عَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْنَا ۚ رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَأَنتَ خَيْرُ الْفَاتِحِينَ ﴿٨٩﴾

په تحقیق به تړلی وی مونږ پر الله دروغ «بهتان» که وګرځو مونږ په دین د تاسی کښې وروسته له هغه چه نجات راکړ مونږ ته الله له هغه «دین» نه او نه ښائیږی مونږ ته دا چه بیرته وګرځو په هغه (دین) کښې مګر کله چه اراده وفرمائی الله چه رب زمونږ دی؛ احاطه کړی ده رب زمونږ پر هر شی له جهته د علمه؛ «خاص» پر الله توکل کړی دی مونږ؛ ای ربه زمونږه فیصله وکړه په منځ زمونږ او په منځ د قوم زمونږ کښې په حقه سره او هم دا ته ئی غوره بهتر د فیصله کوونکو.

**تفسیر:** باطل او دروغ مذهب ته رښتیا ویل پر الله تعالیٰ افتراء او بهتان تړل دی. نو بیا د یو جلیل‌القدر نبی او د هغه مخلصو تابعانو څخه کله داسی ممکن دی چه هغوی معاذالله له رښتیا څخه وتلی د دروغو په لوری بیرته ولاړ شی او خپلی تولی رښتینی دعواګانی چه د خپل حقانیت او د الله له لوری د خپل مامور کیدلو په باره کښې یی کولی دروغ او افتراء وګڼی.

﴿ بَعْدَ إِذْ نَجَّانَا اللّٰهُ مِنْهَا ﴾ وروسته له هغه چه نجات راکړو مونږ ته الله له هغه دین نه» ځینو ته ئی له ابتداء څخه نجات ورکړی ؤ چه له سره په هغه دین کښې نه دی داخل شوی لکه حضرت شعیب علیه السلام او ځینی ئی وروسته له دخوله د هغه څخه ایستلی او نجات ئی ور په برخه کړی ؤ لکه د هغی زمانی عام مؤمنان ﴿ وَمَا يَكُونُ لَنَا أَن نَّعُودَ فِيهَا ﴾ الآیة ـ او نه ښائیږی مونږ ته دا چه بیرته وګرځو هغه دین کښې ) یعنی په خپل اختیار یا ستاسی په اکراه او اجبار سره ممکن نه دی چه مونږ معاذ الله د کفر په لوری لاړ شو. هو! که فرضاً د الله تعالیٰ مشیت زمونږ د یوه تن په نسبت داسی وشی نو د ده اراده هیڅوک نشی آړولی ـ که د هغه د حکمت اقتضاء هم داسی وشی نو هلته هیڅوک هیڅ شی نشی ویلی ـ ځکه چه د الله تعالیٰ علم پر تولو مصالحو او حکمتونو محیط دی ـ په هر حال ستاسی له ویرولو څخه مونږ له سره نه ویریږو، ولی چه زمونږ پوره اعتماد او اعتقاد او ډاډینه (یقین) پر یوه الله جلا جلاله ده. د بل چا په خوښه او غوښتنه سره هیڅ یو شی کیدونکی نه دی، هر شی چه کیږی فقط د پاک الله په مشیت او د ده د محیط علم تر اثر لاندی به کیږی، هم دا ده چه مونږ د خپلو او ستاسی د

فیصلی له پاره د هغه لوی دربار څخه غوښتنه او دعاء کوو ـ ځکه چه د داسی یوه قادر، علیم، حکیم، الله له فیصلی څخه بله کومه فیصله نشی غوره کیدی.

که شعیب که ابراهیم که محمد و
داسی نور چه نازولی د احد وو
له جلاله د الله به ویریدل دوی
هر شیبه به پاک الله ته ژړیدل دوی
دیر افسوس اوس داسی وخت او زمانه شوه
چه دا ویره له هر چانه بیګانه شوه
په سرو سترګو نن ژړیږه ای نادانه
ګوره بیابه په خپل ځان شی دیر ستومانه

د حضرت شعیب علیه السلام له دغو الفاظو څخه د دی خبری اندازه په ښه ډول (طریقه) سره کیدی شی، چه د انبیاؤ علیهم السلام په زړونو کښی د الله تعالیٰ عظمت او جبروت او د خپل عبودیت او افتقار څومره یو عظیم او عمیق احساس پروت دی ـ او څرنګه چه په هر آن او هر حال کښی د دوی توکل او اعتماد له ګردو (ټولو) وسائطو څخه منقطع کیږی او یواځی پر هغه **وحده لا شریک له** ذات باندی داسی ټینګ، مضبوط او غیر متزلزل وی چه د غرونو ثبات او استحکام هم د هغه په مقابل کښی بیخی سپک او بی اثره دی.

---

وَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَوْمِهِ لَئِنِ اتَّبَعْتُمْ شُعَيْبًا إِنَّكُمْ إِذًا لَّخَاسِرُونَ ﴿٩٠﴾

---

او وویل مشرانو هغو چه کافران شوی وو له قومه د دغه شعیب قسم دی خامخا که متابعت وکړ تاسی د شعیب بیشکه تاسی به په دغه وخت کښی خامخا له زیان کارانو یئ.

---

**تفسیر:** یعنی د خپلو پلرونو او نیکه ګانو زوړ مذهب پریښودل دینی خرابی او زیان دی. او په تجارت کښی د وزنی او کیلی شیانو پوره ورکول دنیائی ورانی او نقصان دی، کله چه دوی سره له دیر نصیحت له کفر او خیانت څخه منع نه شول نو عذاب پری راغی لکه چه فرمائی!

---

فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دَارِهِمْ جَاثِمِينَ ﴿٩١﴾

---

نو ونیول دوی زلزلی «په توره تیاره کښی او جبرئیل هم پری چیغه وکړه»

نو وګرځېدل دوی «ګهيځ (سحر وختی)» په کورونو خپلو کښې مړه پړمخی پراته.

**تفسير:** د متعددو آيتونو له مجموعي څخه ظاهرېږي چه پر دوی باندی دری ډوله (قسمه) عذابونه لېږلی شوی وو «۱» ظله. «۲» رجفه، (۳) صيحه يعني ړومبی وريځې پر دوی باندی د ځمکی مخ داسی تک تور وګرځاوه چه په هغه کښې د اور بڅرکی او لمبی هم وی ۰ بيا د آسمان له لوری سخت ويروونکی زړه خوځوونکی غږونه واورېدل شول او سم له هغه سره د ځمکی له خوا سخته زلزله هم څرګنده (ښکاره) شوه (ابن کثير).

الَّذِينَ كَذَّبُوا شُعَيْبًا كَأَن لَّمْ يَغْنَوْا فِيهَا ۚ الَّذِينَ كَذَّبُوا شُعَيْبًا كَانُوا هُمُ الْخَاسِرِينَ ﴿٩٢﴾

هغه کسان چه تکذيب ئی کړی ؤ د شعيب «داسی هلاک شول» لکه چه له سره نه وو اوسيدلی په دغو (کورونو خپلو) کښې هغه کسان چه تکذيب ئی کړی ؤ د شعيب وو دوی هم دوی زيان‌کاران (چه په دنيا کښې مردار او په عقبا کښې په انګار شول).

**تفسير:** دوی شعيب عليه السلام او تابعان يی له کلی څخنی په ويستلو سره ويرولی وو خو دوی نه په خپله ژوندی پاتی شول او نه د دوی هغه کلی او ښارونه ودان او هغو خلقو چه تل به ئی ويل (د شعيب عليه السلام اتباع خراب کيدونکی دی.) هغوی په خپله وران، خائبان او خاسران شول. کله چه شعيب عليه السلام د عذاب علائم وليدل. نو د خروج اراده ئی وکړه لکه چه فرمائی

فَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَا قَوْمِ لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَاتِ رَبِّي وَنَصَحْتُ لَكُمْ ۖ
فَكَيْفَ آسَىٰ عَلَىٰ قَوْمٍ كَافِرِينَ ﴿٩٣﴾

نومخ وګرځاوه شعيب له دوی څخه او وويل ای قومه زما! خامخا په تحقيق رسولی دی ما تاسی ته پيغامونه د رب خپل او پند می درکړ تاسی ته «پس تاسی ايمان را نه وړ» نو څرنګه به زه خپه شم پر (هلاک کيدلو د) قوم کافرانو (بلکه نه خپه کيږم).

**تفسیر:** یعني اوس هغوی هلاک شوی دی، نو هغو پسې غمجن کیدل او ارمان کول فائده نه رسوي. ځکه چه دوی ته ډیر مؤثر پندونه ورکړی شوی دی، او په رنګارنګ صورتونو پوهولی شوی دی او له راتلونکو نتائجو او عواقبو څخه ویرولی شوی دی، مګر دوی هیڅ یوی خبرې ته غوږ کینښود او له هیڅ شي څخه یې وانه وریده ـ بلکه له مخلصو خیر غوښتونکو سره ئې خپرې ولګولی (لاسونه ولګول).
(دا ئې د خپلی تسلی له پاره وویل د ځینو تیرو قومونو د اهلاک له ذکر څخه وروسته اوس د عبرت له پاره په عامه طریقه سره کفار ویروی او داسی فرمائی)

وَمَآ اَرْسَلْنَا فِیْ قَرْیَةٍ مِّنْ نَّبِیٍّ اِلَّآ اَخَذْنَآ اَهْلَهَا بِالْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمْ یَضَّرَّعُوْنَ ﴿۹۴﴾
ثُمَّ بَدَّلْنَا مَکَانَ السَّیِّئَةِ الْحَسَنَةَ حَتّٰی عَفَوْا وَّقَالُوْا قَدْ مَسَّ
اٰبَآءَنَا الضَّرَّآءُ وَالسَّرَّآءُ فَاَخَذْنٰهُمْ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا یَشْعُرُوْنَ ﴿۹۵﴾

او نه ؤ لیږلی مونږ په هیڅ قریه «ښار» کښې هیڅ نبی (چه دوی ئې تکذیب کړی وی) مګر وبه نیول مونږ اهل د هغې (قریې) په سختیو «لکه فقر» او تکلیفونو «لکه مرض» دپاره د دې چه دوی زاری «عاجزی» وکړی (ایمان راوړی). بیا بدله کړه مونږ په ځای د بدی (سختی) کښې نیکی (آسانی) تر هغه پوری چه ډیر شول «هم ئې مال هم ئې سړی» او وویل دوی «په ناشکری» چه په تحقیق رسیدلی وی پلرونو زمونږ ته سختی او خوشالی (په شان زمونږ او دغه د زمانی عادت دی. کله چه دوی زاهل او غافل شول) نو ونیول مونږ دوی ناڅاپه او دوی به نه پوهیدل «چه پر مونږ به عذاب راشی».

**تفسیر:** یعنی د انبیاؤ د بعثت په وخت کښی کله چه عموماً خلقو د دوی تکذیب او مخالفت ته ملاوی وتړلی، نو د پاک الله له لوری د ابتدائی تنبیه په ډول (طریقه) په بیماری قحط او د رېړونو او تکلیفونو په مختلفو دولونو (طریقو) اخته او مبتلا کیږی چه مکذبین پری ویښ شی او له خپلو شرارتونو څخه لاس وکاږی. او د الله تعالیٰ دربار ته سر ښکته کړی کله چه دوی له دغو تنبیهاتو څخه نه متاثر کیږی نو سختی او مصائب تری لری کیږی او عیش، عشرت، پراخی او خوشالی دوی ته ور په برخه کیږی، چه یا له احساناتو څخه متاثر او وشرمیږی او د الوهیت

دربار ته متوجه شي یا د عیش او ثروت په نشه کښې لا مست او بیخي غافل، زاهل او بې پروا شي، ګواکې هومره چه د دوی صحت، اولاد، دولت او حکومت پسې زیاتیږی د هغه په تناسب د دوی هم هغومره نخوت غفلت او شرارت هم ورسره ترقي کوی تر دی پوری چه د پخوانیو زمانو تکالیف ئې بیخي هیریږی، او داسې وائی چه د تکلیفونو او راحتونو سلسله له پخوا راهیسې جاری ده ـ او زمونږ په کفر او تکذیب پوری څه اړه (احتیاج) نه لری که نه دغه وروستنی خوشالي به څرنګه زمونږ په برخه کیده؟، دا ګرد (تول) د زمانی اتفاقیات دی چه زمونږ اسلافو ته هم داسې پیښې وریپیښیدی.

(راځی کله خوشالي کله غمونه

همیشه د زمانې دی دا رسمونه)

کله چه دوی دغی اندازی ته ورسیږی ناڅاپه د پاک الله عذاب پری نازلیږی او داسې ئې ځبیښې چه د دی ځبیښلو فکر او تصور دوی سره د خپل عیش او عشرت په زمانه کښې له سره نه ؤ ـ حضرت شاه صاحب څرنګه ښه لیکلي دی

که بنده ته په دنیا کښې د ګناه سزا ورسیږی نو هیله (امید) دی چه دی به توبه وکړی او کله چه له ګناه څخه ضرر ونه وینی یعنی په نتیجه کښې یی نیکې ولیده نو دغه د الله تعالیٰ هیرول (او په تاخیر غورځول او استدراج) دی نو دلته د هلاکت ویره ده. لکه چه څوک زهر وخوری سم د لاسه کانګې «قی» وکړی نو د روغتیا هیله (امید) پیدا کیږی ـ او که په معده کښې ئې پاتې شو، نو کار له کاره تیریږی.

---

وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَىٰ آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِم بَرَكَاتٍ مِّنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَلَٰكِن كَذَّبُوا فَأَخَذْنَاهُم بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿٩٦﴾

---

او که خلقو د دی کلیو (ښارونو) ایمان راوړی وی او تقویٰ ئې (غوره) کړی وی نو خامخا پرانیستلی به وی مونږ پر دوی باندی (دروازی د) برکتونو له لوری د آسمانه (د باران په اورولو) او له «لوری» د ځمکې «په زرغونولو د محصولاتو» ولیکن نسبت د دروغو وکړ دوی (انبیاؤ ته) نو ونیول مونږ هغوی په سبب د هغو چه وو دوی چه کول به ئې «د کفر او معاصیو څخه».

---

**تفسیر:** یعنی مونږ له بندګانو سره څه ضد او دښمنی نه لرو ـ هغه کسان چه په الهٰی عذاب کښې اخته کیږی، دا د هغو د اعمالو نتیجه ده که دغو خلقو زمونږ رسولان قبول کړی وی ، او د حق په مقابل کښې ئې غاړه ایښې وی او له کفر او تکذیبه او له نورو مناهیو څخه ئې ځان

ژغورلي (بچ کړي) وي ، او د تقوىٰ لار ئي غوره کړي وي ، نو مونږ به دوی د آسمان او د ځمکي په برکاتو معمور کړي وي .
زمونږ امام رازی علیه رحمة الله الباری فرمائی چه د برکت لفظ په دوو معانیو کښې استعمالیږی، کله باقي او دائم خیر په برکت سره تعبیریږی او کله د فاضله آثارو پر کثرت د دغه لفظ اطلاق کیږی. لهٰذا د دی آیت مراد به داسي شی د ایمان او د تقوىٰ په اختیارولو سره د هغو آسماني او ځمکني نعمتونو ورونه پرانیستلی کیږی چه دائمي او لا ینقطع وی ـ یا چه فاضله آثار ئي دیر زیات وی ـ داسي خوشالي به نوی چه مکذبینو ته د امهال او استدراج په دول (طریقه) حاصلیږی؛ او په آخره خاتمه کښې به په دنیا کښې او که نه په آخرت کښې خامخا د ده د ځان وبال گرځي.

أَفَأَمِنَ أَهْلُ الْقُرَىٰ أَن يَأْتِيَهُم بَأْسُنَا بَيَاتًا وَهُمْ نَائِمُونَ ﴿٩٧﴾ أَوَأَمِنَ أَهْلُ الْقُرَىٰ أَن يَأْتِيَهُم بَأْسُنَا ضُحًى وَهُمْ يَلْعَبُونَ ﴿٩٨﴾

آیا نو په امن کښې دی (بلکه مأمون نه دی) اهل د قریو «ښارونو» له دی نه چه راشي دوی ته عذاب زمونږ د شپې حال دا چه دوی اوده «غافل» وی.
آیا په امن کښې دی اهل د قریو «ښارونو» له دی نه چه راشي دوی ته عذاب زمونږ په څاښت کښې حال دا چه دوی په لوبو مشغول وی.

**تفسیر:** یعني کله چه په عیش او عشرت او آرامي کښې غافل پراته وی یا په دنیوی چارو او لهو او لعبو کښې مشغول وی، نو په داسي وخت کښې الهٰی عذاب دوی ناڅاپه چار چاپیر راگیر کړی له دغي خبری څخه دا خلق ولي بې خوفه او بې فکره شوی دی؟ حال دا چه د کومو اسبابو په بناء چه پر پخوانیو اقوامو د الله تعالىٰ عذاب نازل شوی دی، هغه په دوی کښې هم شته ـ یعني کفر او تکذیب او له سید الانبیاء صلی الله علیه وآله وصحبه وسلم سره مقابله او مجادله د دوی په طبایعو کښې هم مرکوز او متمکن دی.

أَفَأَمِنُوا مَكْرَ اللَّهِ ۚ فَلَا يَأْمَنُ مَكْرَ اللَّهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْخَاسِرُونَ ﴿٩٩﴾

آیا نو په امن کښې دی دوی «بلکه نه دی» له مکره «ناڅاپه نیولو» د الله، نو نه په امن کیږی له مکره د الله مگر قوم زیانکاران «په کفر او نفاق سره».

**تفسیر:** د الله تعالىٰ هغه ناڅاپه نیول چه له دنیوی خوشالي او عیش څخه وروسته واقع کیږی

همغه ئی په «مکرالله ـ د الله تعالیٰ چال» سره تعبیر وفرمایل، او همغه خلق د الله تعالیٰ له ناڅاپه نیولو څخه غافل او بی فکره کیږی چه په عیش او تنعم کښی اخته شوی وی او د دوی هم دغه اعمال دوی په همغه لوری تیل وهلی وی. د مؤمنانو شان دا دی چه دوی په هیڅ حال کښی د الله تعالیٰ له یاده نه غافلیږی.

(زه ئی بولمه ناپوه او دیر بیرا
که دی بولی ځان خاوند د فهم او ذکا)
چه په عیش کښی نه یادوی پاک الله
او په طیش کښی نه ویریږی له الله)

أَوَلَمْ يَهْدِ لِلَّذِينَ يَرِثُونَ الْأَرْضَ مِنْ بَعْدِ أَهْلِهَا أَنْ لَوْ نَشَاءُ
أَصَبْنَاهُمْ بِذُنُوبِهِمْ ۚ وَنَطْبَعُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ ﴿١٠٠﴾
تِلْكَ الْقُرَىٰ نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنْبَائِهَا ۚ وَلَقَدْ جَاءَتْهُمْ
رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ فَمَا كَانُوا لِيُؤْمِنُوا بِمَا كَذَّبُوا مِنْ قَبْلُ ۚ
كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِ الْكَافِرِينَ ﴿١٠١﴾

آیا نه ده ظاهره «ښکاره» شوی (بلکه ښکاره ده) هغو کسانو ته چه وارثان شوی دی د (ځمکی او اوسی پکښی) وروسته (له هلاک) د اهل د هغی دا خبره که اراده فرمائلی وی مونږ «د نیولو د دوی» نو رسولی به ؤ مونږ دوی ته (عذاب) په سبب د ګناهونو د دوی سره «لکه چه مو معذب کړی دی پخوانی خلق» او مهر به ولګوو پر زړونو د دوی نو دوی به نه اوری (حق او نافع وعظ په اوریدلو سره). دغه قریبی (او ښارونه د تیر شویو امتونو) بیانوو مونږ پر تا له ځینو حالاتو د دی «قریو»، او هرومرو (خامخا) په تحقیق راوړی وی دوی ته رسولانو د دوی ښکاره معجزی نو نه وو (له شانه) د دوی چه ایمان راوړی په هغه شی چه نسبت د دروغو ئی «ورته» کړی ؤ پخوا (له هم دغو معجزاتو) هم دا رنګه (لکه مهر ایښودل پر زړونو د پخوانیو کفارو) مهر لګوی الله په زړونو د کافرانو باندی.

**تفسیر:** یعنی له یوه شی چه یو ځلی انکار وکړی بیا چه هرڅومره معجزی او دلائل وګوری او دنیا له یوه مخه په بل مخ واوړی امکان نه لری چه دوی اقرار وکړی، هر کله چه د حق تعالیٰ په مقابل کښی کوم قوم دومره ضد او عناد وکړی، او د دوی مخالفت تر دغی آخری درجی پوری ورسیږی، نو عادتاً د حال اصلاح او د حق د قبول امکان نه وی پاتی، پر زړونو باندی د مهر لګیدلو صورت هم دغه دی. دلته ئی واضع وفرمایل چه د الله تعالیٰ له خوا پر زړونو د مهر لګولو څخه څه مطلب دی؟

**تنبیه:** له ﴿ وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَٰتِ ﴾ څخه معلومه شوه. هغه انبیاء علیهم السلام چه قوم د نوح ـ عاد ـ ثمود ـ لوط او اهل د مدین او نورو ښارونو او کلیو ته مبعوث شوی وو، هغوی ګرد (ټول) د بیناتو «ښکاره دلائلو» لرونکی وو او له واضحو معجزاتو سره راغلی وو نو بیا د هود علیه السلام د قوم دغه وینا چه ﴿ يَٰهُودُ مَا جِئْتَنَا بِبَيِّنَةٍ ﴾ الآیة - یواځی د تعنت او عناد له لاری ده.

وَمَا وَجَدْنَا لِأَكْثَرِهِم مِّنْ عَهْدٍ ۖ وَإِن وَجَدْنَا أَكْثَرَهُمْ لَفَٰسِقِينَ ﴿١٠٢﴾

او نه دی موندلی مونږ له پاره د زیاترو د دوی له (وفا په) عهد، او بیشکه موندلی دی مونږ زیاتره د دوی خامخا، فاسقان (ماتوونکی د عهد).

**تفسیر:** له عهد ځنی ممکن دی چه عام عهدونه مراد وی، یا به خاص د(الست) عهد اراده کړی شوی وی. یا به هغه عهد وی چه د مصائبو او سختیو په وخت کښی ئی کوی چه دغه سختی که له ما ځنی لری شی ـ نو زه به ایمان راوړم، یا به په سمه لاره دروم، لکه چه فرعونیانو به ویل ﴿ لَئِن كَشَفْتَ عَنَّا ٱلرِّجْزَ لَنُؤْمِنَنَّ لَكَ وَلَنُرْسِلَنَّ مَعَكَ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ ٱلرِّجْزَ إِلَىٰٓ أَجَلٍ هُم بَٰلِغُوهُ إِذَا هُمْ يَنكُثُونَ ﴾ «۹ جزء د الاعراف ۱۳٤ آیت ۱٦ رکوع»
د ﴿ وَإِن وَجَدْنَا ﴾ ان له مثقلی نه مخفف دی او ځینو مفسرینو د دغی اخیری جملی ترجمه داسی کړی ده او په تحقیق سره معلومه شوی ده مونږ ته چه اکثر د دوی خامخا فاسقان عهد ماتوونکی دی.

ثُمَّ بَعَثْنَا مِنۢ بَعْدِهِم مُّوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِي۟هِۦ فَظَلَمُوا۟ بِهَا ۖ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿١٠٣﴾

بیا ولیږه مونږ وروسته له دغو (رسولانو) موسیٰ سره له (نهو) معجزو زمونږ فرعون «د مصر» او اتباعو د ده ته نو ظلم وکړ «کافر شول» دوی په هغو

(معجزاتو)، نو وګوره څرنګه شو عاقبت «آخره خاتمه» د مفسدينو.

تفسير: يعني د هغو رسولانو ذكر چه پخوا له دې نه وشو (نوح، هود، صالح، لوط، شعيب عليهم السلام) له دغو ټولو څخنې موسىٰ عليه السلام وروسته تشريف راوړ، د هغو رسولانو د ذكر كولو څخه وروسته ئې په منځ كښې د هغه سنة الله او عادت ذكر وفرمايه چه د مكذبينو په متعلق تل جريان لرى او د هغه په ضمن كښې يې د كفارو موجوده جماعت ته تنبيه وركړه د دغه ضمنى مضمون له فراغته وروسته بيا ئې د بعث الرسل د سلسلې د يوې عظيم الشانى كړى په ذكر كولو شروع وكړه لكه چه فرمائى بيا وليږه مونږ وروسته له دغو رسولانو موسىٰ عليه السلام سره له نهو معجزو زمونږ فرعون د مصر ته او اتباعو د ده ته نو ظلم ئې وكړ او كافران شول دوى په هغو معجزاتو نو وګوره اى محمده چه څرنګه شو عاقبت او آخره خاتمه د مفسدينو؟ هو!) له دې نه به زيات مفسد څوك وى چه د الله تعالىٰ تكذيب او د نورو حق تلفى كوى. او د الله تعالىٰ په مخلوقاتو د خپل ځان عبادت كوى. وروسته د ضرورى واقعاتو ذكر فرمائى او د دې انجام تفصيل وركړى شوى دى.

وَقَالَ مُوسَىٰ يَٰفِرْعَوْنُ إِنِّي رَسُولٌ مِّن رَّبِّ الْعَٰلَمِينَ ﴿١٠٤﴾
حَقِيقٌ عَلَىٰٓ أَن لَّآ أَقُولَ عَلَى اللَّهِ إِلَّا الْحَقَّ قَدْ جِئْتُكُم بِبَيِّنَةٍ
مِّن رَّبِّكُمْ فَأَرْسِلْ مَعِيَ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿١٠٥﴾

او وويل موسىٰ اى فرعونه! بيشكه زه رسول يم له (لورى) د رب د عالميانو. قائم ثابت لايق ټينګ ولاړ يم پر دغه خبره چه نه وايم پر الله مګر «وايم» حق (رښتيا)؛ په تحقيق راوړى ده ما تاسى ته څرګنده (ښكاره) معجزه له «لورى د» رب ستاسى نو وليږه له ماسره بنى اسرائيل «چه ئې بوځمه شام ته».

تفسير: اكثرو مفسرينو د «حقيق» معنى په جلير «لايق» يعني په وړ سره كړى ده، د(علىٰ) معنى ئې په (باء) سره آړولى ده يعني زما له شانه سره هم دغه خبره وړ (لائق) او حقه ده چه د الله تعالىٰ په لورى كومه ناحقه او غلطه خبره ونه وايم، ځينى د(حقيق) معنى په (حريص) كوى ليكن محقق شيخ الهند رحمة الله عليه د «حقيق» معنى «قايم او ثابت» فرمايلى ده چه مطلب ئې داسى كيږى چه بې له ادنى تزلزل او تذبذب په ډيرى مضبوطى او استقلال سره پر دې قائم او ثابت يم چه بې له رښتيا هيڅ يو شى له خپلې ژبې ونه باسم او د الله تعالىٰ پيغام بې له تزئيد او تنقيص څخه تاسى ته دورسوم او ستاسى د تخويف او تكذيب له سببه لږ څه متردد او متذبذب

نه شم.

قَالَ اِنْ كُنْتَ جِئْتَ بِاٰيَةٍ فَاْتِ بِهَآ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿١٠٦﴾ فَاَلْقٰى عَصَاهُ
فَاِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِيْنٌ ﴿١٠٧﴾

وويل (فرعون) كه ئی ته «ای موسٰی!» چه راوړی دی وی كومه معجزه نو راحاضره «راوړاندی» كړه هغه (ماته) كه ئی ته له صادقانو (رښتینو په دی دعوی خپله كښی ). نو وغورځوله «موسٰی» همسا خپله نو له واره هغه اژدها وه ښكاره «چه پكښی نه ؤ شک د چا».

**تفسیر:** اگر كه حضرت موسٰی علیه السلام فرعون ته راز راز (قسم قسم) نصائح وكړل لكه چه په نورو آیتونو كښی مذكور دی ـ ﴿فَقُلْ هَلْ لَّكَ اِلٰٓى اَنْ تَزَكّٰى وَاَهْدِيَكَ اِلٰى رَبِّكَ فَتَخْشٰى﴾ خو یو لوی مهم شی دا ؤ چه بنی اسرائیلو ته چه د لویو انبیاؤ له اولادی څخه وو او د فرعون له لوری لكه ذلیل او سپک حیوانات گڼل كیدل او دوی ئی خپل مریان او غلامان گرځولی وو د ده له مظالمو او شدائدو څخه نجات وركړی په دغی موقع كښی ئی فرعون مخاطب وگرځاوه او دغه لوری ته ئی متوجه كړ چه بنی اسرائیلو ته له خپل قید او بیگار څخه نجات وركړی چه دوی په آزادی ـ او خپلواكی سره د الله تعالٰی په عبادت كښی مشغول شی. او له ما سره خپل مالوف وطن (شام) ته لاړ شی. ځكه د دوی اعلٰی جد (مشر نیكه) حضرت ابراهیم خلیل الله له عراق څخه هجرت كړی او په شام كښی ئی سكونت اختیار كړی ؤ ـ وروسته له هغه د حضرت یوسف علیه السلام له سببه بنی اسرائیل (سبطیان) مصر ته راغلل او هلته ودان شول ـ بیا ځرنگه چه د دی هیواد قوم قبطیانو (فرعونیانو) پر دوی راز راز (قسم قسم) ظلمونه كول نو د دی خبری ضرورت پیدا شو چه اسرایئلیان د قبطیانو له ذلت او مرئیتوبه خلاص كړی او خپل پلرنی هیواد (د پلار وطن) ته بیرته لاړ شی.

وَّنَزَعَ يَدَهٗ فَاِذَا هِيَ بَيْضَآءُ لِلنّٰظِرِيْنَ ﴿١٠٨﴾

او وویست «موسٰی ښی» لاس خپل «چه ئی په گریوان كښی كیڼ تخرگ (ترخ) ته وروړی ؤ» نو ناڅاپه هغه تک سپین (ځلیدونكی د تعجب موجب) ؤ دپاره د كتونكو.

**تفسیر:** یعنی خپل لاس یی په خپل گریوان كښی ننویست، او په خپل تخرگ (ترخ) كښی ئی

تینګ ونیو، او بیرته ئی وویست نو ګردو (تولو) مخلوقاتو په خپلو رڼو سترګو سره ولید چه لاس ئی فوق العاده تک سپین، ډیر ځلیدونکی نورانی ؤ چه د لمر په رڼا (رڼرا) غالب شو دغه رڼا (رڼرا) او ځلیدل د برص، د ناروغی یا د بل کوم شی څخه نه ؤ. ګواکی داسی معلومیده چه د ده د منور زړه رڼا (رڼرا) د اعجاز په طریقه د ده په لاس کښی سرایت کړی دی.

قَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ عَلِيْمٌ ﴿١٠٩﴾

وویل مشرانو له قومه د فرعونه «سره له فرعونه» چه بیشکه دا «موسٰی» خامخا جادوګر دی ډیر پوه «چه له همسا نه اژدها او له لاس نه لمر جوړوی»

تفسیر: معلومیږی چه فرعون د موسٰی علیه السلام له معجزاتو څخه ډیر زیات وویریده او ګرد (تول) خلق ئی راغوند کړل، او ړومبی ده په خپله بالذات (کما فی الشعرآء) او بیا د ده له لوری د ده نورو مشرانو خپلی آراء داسی اظهار کړی چه معاذ الله موسٰی علیه السلام کوم لوی جادوګر او ماهر ساحر دی ـ ځکه هغه خوارق چه له موسٰی علیه السلام څخه ظاهر او څرګند (ښکاره) شوی وو، د دوی له حسیاتو سره سم د هغو لپاره له جادو او سحر څخه پرته (علاوه) بل کوم بهتر تعبیر او توجیه دوی نشوه موندلی.

يُّرِيْدُ اَنْ يُّخْرِجَكُمْ مِّنْ اَرْضِكُمْ ۚ فَمَاذَا تَاْمُرُوْنَ ﴿١١٠﴾

غواړی «موسٰی» دا چه وباسی تاسی (ای قبطیانو!) له ځمکی ستاسی «چه مصر دی» نو «وویل فرعون مشرانو ته» څه امر «مصلحت او مشوره» کوئ تاسی!؟

تفسیر: یعنی موسٰی د سحر او د کودګری په عجیبی او غریبی ننداری سره خلق خپل لوری ته متمائل کوی او په پای (اخر) کښی په وطن کښی خپل اثر او اقتدار زیاتوی او د سبطیانو د آزادی او حمایت په نامه ګرد (تول) قبطیان چه د دی وطن اصلی اوسیدونکی دی، د دوی له ملک او وطن (مصر) څخه بی برخی کوی تاسی دغه ګرد (تول) حالات تر خپلو سترګو لاندی ونیسئ! او بیا مشوره راته راکړئ! چه څه وکړو؟

قَالُوْٓا اَرْجِهْ وَاَخَاهُ وَاَرْسِلْ فِى الْمَدَآئِنِ حٰشِرِيْنَ ﴿١١١﴾ يَاْتُوْكَ بِكُلِّ سٰحِرٍ عَلِيْمٍ ﴿١١٢﴾

وويل «قبطيانو فرعون ته» مهلت ورکړه دغه «موسیٰ» ته او ورور د ده ته او ولیږه په ښارونو کښې راټولوونکي «د ساحرینو». چه راولي تاته هر ساحر (جادوګر) ډیر پوه «ماهر جادوګر».

**تفسیر:** د جرګې او مشورې په پای (اخر) کښې دغه خبره د ګردو (ټولو) له لورې ومنله شوه، چه له فرعون څخني دې استدعا وکړه شي چه د دغو دواړو «موسیٰ او هارون» په معامله کښې له سره تلوار ونه کړ شي د دوی د ماتولو له پاره ډیر ښه او مؤثر ځواب داسې کیدی شي چه محصلان دې ګردو (ټولو) ولایاتو او حکومتونو «پرګنو» ته ولیږل شي ـ او له ګردو (ټولو) ملکو څخه دې ډیر ښه کوډګران ـ او خورا (ډیر) لوی ساحران او جادوګران چه په سحر کښې له ده څخني له حده تیر ماهر «سحار» وي سره راټول کړل شي نو بیا دې د دوی له هغو سره یوه ښه مقابله وشي ـ لکه چه هم داسې هم وکړل شول.

وَجَآءَ السَّحَرَةُ فِرْعَوْنَ قَالُوْٓا اِنَّ لَنَا لَاَجْرًا اِنْ كُنَّا نَحْنُ الْغٰلِبِيْنَ ﴿۱۱۳﴾

او راغلل ساحران «جادوګران» فرعون ته وویل دغو جادوګرانو «فرعون ته» چه آیا بیشکه وي به مونږ ته خامخا ښه مزدوري که شوو مونږ هم دا مونږه غلبه کوونکي «پر موسیٰ».

**تفسیر:** د فرعون ساحرینو د ﴿ اِنَّ لَنَا لَاَجْرًا ﴾ په ویلو سره په روښنې مجلس کښې دغه خبره ښکاره (ښکاره) کړه چه د انبیاؤ علیهم السلام روښنې لفظ ﴿ قُلْ مَا سَاَلْتُكُمْ مِّنْ اَجْرٍ فَهُوَ لَكُمْ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ ﴾ وي او دوی د کومې کسبې او کاریګرې طائفې څخه نه دي.

قَالَ نَعَمْ وَاِنَّكُمْ لَمِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ﴿۱۱۴﴾

وویل (فرعون ساحرانو ته) هو! «وي به تاسې لره مزدوري» او بیشکه تاسې به خامخا اوسئ زما له مقربینو څخه «په مرتبه کښې».

**تفسیر:** یعنې مزدوري څه شی دی؟ هغه خو هرومرو (خامخا) تاسې ته درکوله کیږي، برسیره (سیوا) پر دې تاسې زما د دربار په مصاحبینو او مقربینو کښې هم داخلیدونکي یئ!

قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِمَّآ اَنْ تُلْقِيَ وَاِمَّآ اَنْ نَّكُوْنَ نَحْنُ الْمُلْقِيْنَ ﴿۱۱۵﴾

وویل جادوګرانو چه ای موسیٰ آیا ته غورځوی «همسا خپله» او یا دا دی چه شو مونږه هم دا مونږه «ړومبی» غورځوونکی (د ږیو او همساګانو خپلو).

**تفسیر:** دا خبره ئی ښائی د دی لامله (له وجی) ویلی وی چه پخوا له دی نه موسیٰ علیه السلام د فرعون په مخ کښی خپله همسا غورځولی وه، او هغه د الله تعالیٰ په اذن او حکم سره ښامار ګرځیدلی وه.

قَالَ أَلْقُوا ۖ فَلَمَّا أَلْقَوْا سَحَرُوا أَعْيُنَ النَّاسِ وَاسْتَرْهَبُوهُمْ وَجَاءُوا بِسِحْرٍ عَظِيمٍ ﴿١١٦﴾

وویل موسیٰ ساحرانو ته «تکرما تسامحا معتمداً علی الله» چه وغورځوئ تاسی خپل ږی او همساګانی، نو کله چه وغورځول دوی نو جادو ئی وکړ پر سترګو د خلقو او وویرول دوی دا «خلق» او راتله وکړه دوی په جادو لوی سره.

**تفسیر:** یعنی کله چه تاسی هم دغه مقابله منظوره، او خبره مو پر دغه غوته او په هم دغه باندی مو خپله فیصله منحصره کړی ده، نو ړومبی تاسی خپلی چاری پر میدان واچوئ! او خپل پوره قوت او قدرت وازمویئ ـ ځکه چه د باطل د پوره ازموینی او کامل نمائش څخه وروسته هغه د حق غلبه چه مشاهده شی امید شته چه هغه به زیاته مؤثره او اوقع فی النفوس ثابته شی دغه خو فی الحقیقت د موسیٰ علیه السلام له لوری له سحر سره د معجزی د مقابلی اجازه نه وه بلکه له دواړو صورتونو څخنی د یوه داسی ښه صورت انتخاب او غوره کول مقصود ؤ چه د باطل پوره خمود (یخیدل) او کامل جمود (منجمد کیدل) په کښی څرګند (ښکاره) وی، او د حق د غلبی او د صداقت د وضوح (ښکاره کیدو) خورا (دیر) مؤثر صورت پکښی له ورا ښکاره وی.
﴿فَلَمَّا أَلْقَوْا﴾ الآیة ـ نو کله چه وغورځول دوی نو جادو ئی وکړ پر سترګو د خلقو او وویرول دوی دا خلق او راتله ئی وکړه په جادو لوی سره) یعنی د کودو او سحر په زور د ګردو (تولو) ننداره کوونکو سترګی وتړلی شوی او پر تولو حیرت طاری شو او عام خلق وویریدل. په بل آیت کښی راغلی دی چه هغوی خپل ږی او همساګانی پر ځمکه وغورځولی، چه د هغو په اثر په هغی ځمکی کښی پرته (علاوه) له ځغلیدونکو، ځغاستونکو او یو په بل باندی سوریدونکو مارونو او منګورونو څخنی بل هیڅ شی په نظر نه راته. ﴿يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِن سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعَىٰ﴾
له دغو آیتونو څخنی ښکاره شوه چه د فرعون ساحرین په دغه وخت کښی کومه شعبده چه ښووله

په هغې کښې له سره د ماهيت قلب نه دی واقع شوی، بلکه هغه تش يو تخيل او نظر بندی وه، له دی نه دغه نه لازميږی چه د سحر گرد (تول) اقسام به په همغه کښې منحصر وی، ښائی چه دوی داسی گمان کړی وی چه مونږ به په هم دغومره کار سره موسٰی عليه السلام پر او مغلوب کړو، که څه نور فرصت دوی ته ميسر شوی وی نو ممکن چه له دغه لوی سحر څخه به ئی کوم بل لوی سحر هم ورښودلی وی مگر موسوی اعجاز سحر ته په ړومبنی سنگر کښی داسی سخته بی هيلی ماته ورکړه چه کودگرانو ته بله څه موقع او هيله (اميد) پاتی نشوه چه په هغی سره د بلی مقابلی له پاره ځان تيار او بل کوم سحر وکړی.

---

وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى اَنْ اَلْقِ عَصَاكَ ۚ فَاِذَا هِىَ تَلْقَفُ مَا يَاْفِكُوْنَ ﴿۱۱۷﴾ فَوَقَعَ الْحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۱۸﴾ فَغُلِبُوْا هُنَالِكَ وَانْقَلَبُوْا صٰغِرِيْنَ ﴿۱۱۹﴾ وَ اُلْقِىَ السَّحَرَةُ سٰجِدِيْنَ ﴿۱۲۰﴾ قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۲۱﴾ رَبِّ مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿۱۲۲﴾

---

او وحی (حکم) مو وليږه موسٰی ته داسی چه وغورځوه ته همسا خپله (بيا ده وغورځوله او ښامار شو)، نو ناڅاپه دغی همسا ښوی تيرول «نغړودل» هغه شيان چه جوړ کړی وو دغو (جادوگرانو په جادو سره) نو ثابت «او د پاسه» شو حق او باطل «ورک» شو هغه څه چه وو دوی چه کول به ئی. نو مغلوب شول دا «ساحران» په هغه ځای کښی او وگرځيدل دوی خوار سپک. او وغورځول شول ساحران په دی حال کښی چه سجده کوونکی وو. وويل جادوگرانو ايمان مو راوړی دی په رب د عالميانو. (په) رب د موسٰی او «رب د» هارون.

---

**تفسير:** يعنی د موسٰی عليه السلام له همسا ځنی داسی يو لوی ښامار (اژدها) جوړ شو چه د گردو (تولو) کودگرانو تول پری او همساگانی ئی له خپل ستونی څخه گرد (تول) سره يو ځلی او يو ځائی ښوی تيری کړلی او گردی (تولی) جوړی شوی لوبی ئی پای (اخر) ته ورسولی او په هغه سره تول کودگران متنبه شول چه له کودو او جادو ځنی پورته يو بل حقيقت هم شته. په پای (اخر) کښی فرعون د داسی يوی لوئی مجمع په مخ کښی ماتی وخوړه، او په ډير ذلت او سپکتيا سره د مقابلی له ډگر څخه بيرته ستون (واپس) شو. کودگران د پاک الله د دغو دلائلو له ليدلو څخه بی اختياره پرمخی په سجده ولويدل. وائی چه موسٰی او هارون عليهما السلام د دغه

حقیقت د ظهور په نسبت د شکر سجده وکړه. او په هم دغه وقت کښې ساحرین هم بې واکه سر په سجده پریوتل - د ﴿ وَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ ﴾ لفظ دا راښيي چه داسې يو قوي حال پر دوی باندې طاري شوی ؤ چه د هغه په ليدلو سره دوی ته پرته (علاوه) له خشوع او خضوع او استسلام څخه بله چاره نشوه پاتي. د الهٰی رحمت څه ستاينه او توصيف وکړ شي؟ وګورئ هغه خلق چه هم دا اوس د الله تعالىٰ له انبياؤ علیهم السلام سره د جنګ او جګړې او مقابلې له پاره درېدلي وو - وروسته له دې نه چه خپل سرونه ئې له سجدې څخه پورته کړل. اولياءالله او کامل عارفان شوی وو (چه هغه هم دغه ساحران د فرعون وو).

﴿ قَالُوٓا ءَامَنَّا ﴾ الآية - وويل جادو ګرانو ايمان مو راوړی دی په رب د عالميانو رب د موسىٰ او رب د هارون) څرنګه چه فرعون خپل ځان ته ﴿ أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلَىٰ ﴾ ويل نو دلته له (برب العٰلمين) سره د «رب موسىٰ او هارون» ويلو ته هم ضرورت پيدا شو، په دې سره دغه لورې ته هم اشاره وشوه. چه بيشکه د ګرد (ټول) جهان پروردګار او پالونکی همغه ذات دی چه د خپل خاص ربوبيت په قدرت سره يې موسىٰ او هارون علیهما السلام بې دظاهرې اسبابو له توسط څخه د دنيا پر لويو متکبرانو په داسې يو محير العقول صورت علىٰ رؤس الاشهاد غالب او بريالي (فتحمند) وګرځول.

---

قَالَ فِرْعَوْنُ ءَامَنتُم بِهِۦ قَبْلَ أَنْ ءَاذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّ هَٰذَا لَمَكْرٌ مَّكَرْتُمُوهُ فِى الْمَدِينَةِ لِتُخْرِجُوا۟ مِنْهَآ أَهْلَهَا ۖ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿١٢٣﴾

---

وويل فرعون آيا ايمان راوړ تاسې په دغه «موسىٰ» پخوا له هغه چه اذن «اجازه» وکړم زه تاسې ته، بيشکه دا کار خامخا يو مکر «فريب» دی چه مکر (بنا) کړی دی تاسې هغه په دا ښار کښې دپاره د دې چه وباسئ تاسو له دې ښاره اهل د دې نو ژر به پوه شئ تاسې «چه زه څه درسره کوم؟».

---

تفسير: يعنې دغه تاسې خو د کوډګرانو «ساحرانو» يوه غوره جرګه (اتحاديه) يئ غالباً موسىٰ ستاسې لوی استاذ دی چه هغه مو د مخه استولی دی او بيا تاسو ګردو (ټولو) هغه ته ځانونه پړه او مغلوب کړل چه عام خلق ترې متأثر او ودار شي د دغې ژورې پلمې (پلان) او پټ سازش نه ستاسې مقصود دا دی چې د دغه وطن اصلي اوسيدونکي قبطيان ترې وباسئ او تاسې سبطيان او اسرائيليان په خپله پرې متصرفان شئ او د مصر سلطنت اشغال کړئ دغه وينا فرعون ځکه وکړه چه پر خپلې دغې لوئې ماتې پرده واچوی او له خلقو څخه ناپوهان او بيراګان (بې عقله) جوړ کړی (فاستخف قومه فاطاعوه) مګر له هغه شي نه چه فرعون او فرعونيان ويريدل بالاخره همغه د الله تعالىٰ په تقدير ورپيښ شو - ﴿ وَنُرِىَ فِرْعَوْنَ وَهَٰمَٰنَ وَجُنُودَهُمَا مِنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَحْذَرُونَ ﴾

«۲۰ جزء د القصص ٦ آية (۱) رکوع».

لَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَافٍ ثُمَّ لَأُصَلِّبَنَّكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿۱۲۴﴾
قَالُوا إِنَّا إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ﴿۱۲۵﴾

خامخا به پری کړم زه هرومرو (خامخا) لاسونه ستاسی او پښی ستاسی سره مخالفی بیا به خامخا په دار کړم زه ضرور تاسی تول. وویل جادوګرانو بیشکه مونږ په لوری د رب خپل بیرته ورتلونکی یو (پس له مرګه نو پروا نه لرو ستا له دغه تعذیبه)

**تفسیر:** ساحرین د توحید او د لقاء الله د تمنا له شرابو مخمور شوی وو. جنت او دوزخ ګواکی د دوی سترګو ته حاضر ؤ نو ځکه دوی له دغو ویرولو او ډارولو څخه بیخی بی خوفه او بی پروا شوی وو ـ دوی په زړورتیا او لوړه وینا سره وویل «مونږ هیڅ پروا نه کوو که ته هره سزا چه مونږ ته راکړی هغه پر مونږ تیریږی ـ او وروسته له هغه مونږ د پاک الله دربار ته حاضریږو، ای فرعونه! ته دی خپل پت او سیاست وساته! پر مونږ باندی د اخروی عذاب په مقابل کښی دنیوی عذاب ډیر آسان دی، د پاک الله د رضاء او خوښی او رحمت په لاره کښی ډیر لوی لوی تکالیف او مصائب هم د عاشقانو له پاره آسان دی.

(هنیئا لارباب النعیم نعیمهم
　　　　وللعاشق المسکین ما یتجرع)

(بختور وی منعمانو ته نعمت
　　　　د مسکین عاشق په برخه وی زحمت)

(پاچهان به اوبه څکی په جام د زرو
　　　　ما غریب لره د خاورو کندولی دی)

وَمَا تَنقِمُ مِنَّا إِلَّا أَنْ آمَنَّا بِآيَاتِ رَبِّنَا لَمَّا جَاءَتْنَا ۚ رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَتَوَفَّنَا مُسْلِمِينَ ﴿۱۲۶﴾

او عیب نه ګڼی «ته ای فرعونه!» له مونږه مګر دغه کار چه ایمان راوړی دی مونږ په آیتونو د رب خپل کله چه راغله مونږ ته ای ربه زمونږ راتوی کړه پر

مونږ صبر او مړه کړه مونږ په داسې حال کښې چه مسلمانان یو «یعنی خاتمه مو په اسلام کړه»

**تفسیر:** یعنې د هغه پاک الله د آیتونو د قبلولو له سببه چه مونږ ستا په سترګو کښې مجرم ښکاره شوي یو، مونږ له همغه الله تعالیٰ څخه غوښتنه کوو چه مونږ ته ستا د هر راز (قسم) ظلم، تجاوز او سختۍ په مقابل کښې جمیل صبر او ښه توفیق راعطا کړي او د مړ کیدلو تر وخته پورې مونږ پر اسلام مستقیم ولري، او داسې دې ونشي چه مونږ د خوف او ویرې لامله (له وجې) داسې کومه خبره یا حرکت وکړو چه د تسلیم او رضاء له اصوله مخالف وي.

وَقَالَ الْمَلَأُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ أَتَذَرُ مُوسَىٰ وَقَوْمَهُ لِيُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَيَذَرَكَ وَآلِهَتَكَ ۚ

او وویل مشرانو له قوم د فرعون (فرعون ته) آیا «ته» پرېږدې موسیٰ او قوم د ده له پاره د دې چه فساد وکړي دوی په ځمکه «په ملک د مصر» کښې او پرېږدي «عبادت» ستا او د خدایانو «بتانو» ستا؟؛

**تفسیر:** کله چه ساحرین د الله تعالیٰ د آیتونو د لیدلو په اثر پرمخې په سجده ولویدل ـ او بنی اسرائیلو سبطیانو د موسیٰ علیه السلام په ملګرتیا او اتحاد لاس پورې کړل، بلکه د ځینو قبطیانو «فرعونیانو» میلان هم د اسلام په لورې پیدا شو نو فرعوني مشران وویریدل او په خپلو ویناؤ سره یې فرعون تشدد او ظلم ته ولمساوه او ګردو (تولو) ته ئې وویل چه موسیٰ او د ده قوم بني اسرائیلو ته داسې موقع په لاس مه ورکوئ چه هغوی آزاد او خپلواک شي او په خپل سر په وطن کښې شور ماشور جوړ او فساد پکښې واچوي او عام خلق خپل لورې ته متمائل کړي، او د حکومت په مخالفت د بغاوت بیرغ هسک (وچت) کړي. او وروسته له دې نه ستا او ستا د تجویز کړي شوو معبودانو عبادت له دې وطنه موقوف کړي.

﴿ وَيَذَرَكَ وَآلِهَتَكَ ﴾ او پرېږدي عبادت ستا او د خدایانو «بتانو» ستا؟) فرعون خپل ځان لوی رب معرفي کړی ؤ، غالباً ده د دغه موهوم «علویت» د ثبوت له پاره څه ادنیٰ ارباب هم تجویز کړي وو لکه چه د(الهتک) کلمه د هم دې مطلب مؤیده ده ځیني وائي چه دغه بتان د غوائی او نورو اشیاؤ مجسمې وې. ځیني وائي چه په دغه کلمه ئې لمر او ستوري اراده وو ـ د ځینو په نزد فرعون خپلې مجسمې روغې کړې، او د عبادت له پاره ئې پر خلقو ویشلې وې. هر شي چه ؤ بلا پسې ـ خو د فرعون مقصد دا ؤ چه ګرد (تول) خلق ده ته (رب اعلیٰ) او نورو ته «ادنیٰ رب» ووائي. او په ﴿ مَا عَلِمْتُ لَكُمْ مِنْ إِلَٰهٍ غَيْرِي ﴾ ویلو سره به ئې د الله تعالیٰ د وجود

نفي کوله ـ العياذ بالله!.

قَالَ سَنُقَتِّلُ أَبْنَآءَهُمْ وَنَسْتَحْيِ نِسَآءَهُمْ وَإِنَّا فَوْقَهُمْ قَٰهِرُونَ ﴿١٢٧﴾

وويل فرعون ژر به ووژنو مونږ ځامن د دوی (چه نسل ئی ورک شي) او ژوندی به پریږدو مونږ ښځی «لوني» د دوی «خپل خدمت ته». او بيشکه مونږ (قبطيان) د پاسه د دغو «سبطيانو» زورور يو.

**تفسير:** د موسیٰ عليه السلام د پيدا کيدلو څخه پخوا فرعون پر بني اسرائيلو داسی ظلم او تيری جاری کری ؤ ـ چه د دوی ځامن به ئی له دی ويری وژل چه په دوی کښی چيری همغه اسرائيلی نه وی چه د هغه له لاسه د ده د سلطنت د زوال خبر منجمينو ورکری ؤ، او د دوی لوني ئی د خدمتونو او نورو چارو له پاره ژوندی ساتلی ـ کله چه د موسیٰ عليه السلام آثار ئی په خپلو سترگو سره وليدل، نو داسی يوه اندیښنه ورته پيدا شوه نه چه د ده له تربيت او اعانت څخه بني اسرائيل زور پيدا کری ـ نو ځکه د دوی د ويرولو او ربړولو (تکليف ورکولو) له پاره ئی د خپل زور او قوت په نشه کښی بيا د همغو پخوانيو اصولو په جريان امر صادر کړ، بني اسرائيل د دی سفاکی تجويزونو له اوريدلو څخه به طبعاً ويريدلی او سخت پريشان شوی به وی. نو موسیٰ عليه السلام د دغه علاج دوی ته داسی وروښود چه اوس ئی مونږ داسی لولو

قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ ٱسْتَعِينُوا۟ بِٱللَّهِ وَٱصْبِرُوٓا۟ ۖ إِنَّ ٱلْأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۖ وَٱلْعَٰقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴿١٢٨﴾

وويل موسیٰ قوم خپل ته (دپاره د تسلی) مدد غواړئ له الله څخه او صبر کوئ «په طاعت او مصيبت او له معصيت نه»، بيشکه چه دغه ځمکه خاص الله لره ده وارث گرځوی «الله» د دی (ځمکی) هغه څوک چه اراده وفرمائی له بندگانو خپلو څخه او عاقبت «ښه خاتمه» پرهيزگارانو ته «له کفر او معاصی «څخه» ده.

**تفسير:** يعني هيڅ د ويريدلو خبره نه ده. د الله تعالیٰ په مخ کښی د هيچا زور او قوت نه چليږی ملک او سلطنت د الله تعالیٰ دی چه په هر چا ئی پيرزو شی هغه ته ئی (وربيا) ورکوی ـ نو ځکه د ظالمانو په مقابل کښی له پاک الله څخه مدد او مرسته (امداد) وغواړئ او همغه ته د اميد سترگی ونيسئ ـ او تل تری ويريږئ او د صبر او تقویٰ لاره اختيار کړئ يقين او باور

ولرئ چه وروستنی کامیابی (دنیوی نعمت او اخروی جنت) او بری یوائحی د متقیانو له پاره دی. یعني الله تعالیٰ به دغه قبطیان هلاک کړی او د دوی ملک، سلطنت او ځایونه به تاسی سبطیانو ته میراث کړی.

قَالُوٓا اُوذِينَا مِنۡ قَبۡلِ اَنۡ تَاۡتِيَنَا وَمِنۡۢ بَعۡدِ مَا جِئۡتَنَا ؕ قَالَ عَسٰى رَبُّكُمۡ اَنۡ يُّهۡلِكَ عَدُوَّكُمۡ وَيَسۡتَخۡلِفَكُمۡ فِى الۡاَرۡضِ فَيَنۡظُرَ كَيۡفَ تَعۡمَلُوۡنَ ۠ ﴿۱۲۹﴾

وویل بنی اسرائیلو «(موسیٰ ته)» چه ایذاء رسولی شوی ده مونږ ته پخوا له هغه چه راغلی وی ته (ای موسیٰ!) مونږ ته او له وروسته د هغه چه راغلی ته مونږ ته وویل (موسیٰ) نژدی ده چه رب ستاسی هلاک کړی دښمن ستاسی او خلیفه کړی تاسی په دغی ځمکی «(ملک د مصر یا شام کښی پس له هلاکه د قبطیانو)» بیا به ګوری (الله) چه څرنګه عمل کوئ تاسی «(شکر کوئ که کفران، طاعت کوئ که عصیان؟ چه هم هغسی جزا درکړی)»

**تفسیر:** یعنی مونږ تل په مصیبتونو او ربړونو (سختو) کښی اخته یو ـ ستاسی له راتګه پخوا له مونږه ذلیل کارونه او د سپکاوی بیګارونه اخیسته کیدل ـ او زمونږ ځامن وژل کیدل ـ ستاسی له راتګه وروسته هم پر مونږ راز راز (قسم قسم) سختی کیږی، او زمونږ د ځامنو د وژلو (او د لونو د وینځو ګرځولو) مشوری دائری دی ـ وبه ګورو چه زمونږ دغه مصائب او ابتلاء کله پای (اخر) ته رسیږی؟.

حضرت موسیٰ علیه السلام دوی ته دادینه او تسلی ورکړه او وویل تاسی مه ویریږئ ـ د الله تعالیٰ مرسته (مدد) ژر دررسیدونکی ده تاسی به ګورئ چه دغه دښمن به مو هلاکاوه شی ـ او د دوی د اموالو او املاکو مالکان او خاوندان به تاسی وګرځول شئ لکه چه نن په سختی او غلامی کښی ستاسی امتحان اخیست کیږی، هلته به په خوشحالی او آزادی کښی هم ستاسی ازموینه وکړه شی، چه تر کومی اندازی پوری به د الله تعالیٰ د نعمتونو قدر، او د ده د احساناتو شکر ګذاری وکړئ؟.

حضرت شاه صاحب وایی چه دغه کلام د مسلمانانو د آورولو له پاره نقل شوی دی دغه سورت مکی دی او په دغه وخت کښی مسلمانان هم داسی مظلومان وو د نورو د خبرو په منځ کښی ئی هم داسی یو زیری او بشارت دوی ته واوراوه.

(اوس الله تعالیٰ د دښمنانو د هلاک له وعدی څخه وروسته د دوی د اهلاک مقامات راښیی نو

داسی فرمائی چه)

وَلَقَدْ اَخَذْنَآ اٰلَ فِرْعَوْنَ بِالسِّنِیْنَ وَنَقْصٍ مِّنَ الثَّمَرٰتِ لَعَلَّهُمْ یَذَّكَّرُوْنَ ﴿۱۳۰﴾
فَاِذَا جَآءَتْهُمُ الْحَسَنَةُ قَالُوْا لَنَا هٰذِهٖ ۚ وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَیِّئَةٌ
یَّطَّیَّرُوْا بِمُوْسٰی وَمَنْ مَّعَهٗ ؕ اَلَآ اِنَّمَا طٰٓئِرُهُمْ عِنْدَ اللّٰهِ
وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿۱۳۱﴾

او خامخا په تحقیق نیولی ؤ مونږ قوم د فرعون په کلونو د قحطی سره او په نقصان سره. د میوو دپاره د دی چه پند واخلی دوی نو کله چه به راغله دوی ته حسنه (ښیګنه «فائده» پراخی او غنا) نو ویل به دوی چه مونږ لره ده هم دا «یعنی له مونږه سره لائقه ده دغه ښیګنه (فائده)» او که وبه رسیدله دوی ته سیئه «کومه بدحالی لکه قحط او فقر» نو بدفالی به ئی نیوله په موسٰی باندی او په هغه چا چه وو به له ده سره «له مسلمانانو» واورئ خبردار شئ بیشکه هم دا خبره ده چه سبب د بدفالی د دوی په نزد د الله دی ولیکن زیات د دوی نه پوهیږی «په دی چه سبب ئی د دوی اعمال دی».

**تفسیر:** په تیر آیت کښی ئی فرمایلی وو نژدی دی چه الله تعالیٰ ستاسی دښمن هلاک کړی له دی ځایه د هغه موعود اهلاک د ځینو مبادیو تفصیل شروع کړی شوی دی. یعنی د هغه سنة الله سره موافق چه د هغه بیان د دی سپاری په شروع د ﴿ وَمَآ اَرْسَلْنَا فِیْ قَرْیَةٍ مِّنْ نَّبِیٍّ اِلَّآ اَخَذْنَآ اَهْلَهَا بِالْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ ﴾ الآیة - په آیت کښی تیر شوی دی، الله تعالیٰ د ابتدائی تنبیه په دول (طریقه) فرعونیان په قحط، وچکالی او نورو معمولی تکالیفو او سختیو کښی مبتلا او اخته کړل چه د غفلت له خوبه راویښ شی او د موسٰی علیه السلام نصائح قبول کړی مګر هغوی دغو پندونو ته غوږونه کینښودل او د دغو تنبیهاتو ئی هیڅ پروا ونه کړه بلکه له پخوا څخه لا زیات سپین سترګی او بی شرمه شول، لکه چه د ﴿ ثُمَّ بَدَّلْنَا مَكَانَ السَّیِّئَةِ الْحَسَنَةَ ﴾ له قاعدی سره سم کله چه له دوی څخه قحط او وچکالی او نور مصائب لری او دوی ته هوسائی (ارام) ارزانی او خوشالی حاصله شوه نو به داسی ویناؤ ئی پیل (شروع) وکړ چه زمونږ له بخت، طالع او اقبال سره دغه حالات وړ (قابل) او لایق ؤ، بیا به هر کله چه له کومی خرابی او نامناسبی پیښی سره مخامخ کیدل نو داسی به ئی ویل چه دغه ګرد (تول) د موسٰی او د ده د ملګرو نحوست او د دوی د تقدیر شومتیا ده، نو د دوی د دی خبری ځواب الله تعالیٰ داسی

فرمائی ﴿ إِنَّمَا طَٰٓئِرُهُمْ عِندَ ٱللَّهِ ﴾ يعني تاسی خپله بدبختي او نحوست، مقبولو بندګانو ته ولی منسوبوئ؟ ستاسی د واقعي نحوست سبب خو د الله تعالیٰ په علم کښې دی ـ او هغه هم دا ستاسی ظلم، عدوان، بغاوت او شرارت دی نو بنا پر همغه سبب د الله تعالیٰ له درباره د هغه نحوست څه برخه د موقتي سزا او تنبيه په ډول (طريقه) تاسی ته دررسيږی، باقي الله تعالیٰ ستاسی د ظلم او کفر اصلي نحوست او شومتيا يعني پوره سزا اوس محفوظه ساتلی ده چه په دنيا يا آخرت کښې به په خپلی ټاکلی (مقرر کړی) وعدی او نيتی دررسيږی چه له هغی څخه اوس علی الاکثر خلق نه دی خبر.

وَقَالُوا۟ مَهْمَا تَأْتِنَا بِهِۦ مِنْ ءَايَةٍ لِّتَسْحَرَنَا بِهَا فَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِينَ ۝١٣٢

او ويل به دوی (موسیٰ ته) هر شی چه راوړی ته مونږ ته هغه «شی» له دليل «معجزی» څخه له پاره د دی چه جادو وکړی ته پر مونږ باندی په هغه سره نو نه یو مونږ تا لره تصديق کوونکی (په نبوت).

**تفسير:** د موسیٰ عليه السلام د معجزو او د نبوت د دلائلو د ليدلو په وخت کښې به دوی داسی ويل چه هر څومره سخت جادو چه ته پر مونږ وکړی او سم له خپله خياله سره هومره معجزی چه مونږ ته راوښيی مونږ په هيڅ ډول (طريقه) ستا خبری نه منو، کله چه دوی خپله دغه آخری فيصله وروړاندی کړه او د حق د قبول ګرد (تول) ورونه ئی په خپلو ځانونو پسی وتړل ـ پس موسیٰ عليه السلام دوی ته ښيره وکړه نو پاک الله پر دوی څو قسم عظيم الشاني بلاوی وار په وار يوه په بله پسی نازلی کړی چه د هغو تفصيلات مونږ اوس په دغه آيت کښې داسی تلاوت کوو

فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ ٱلطُّوفَانَ وَٱلْجَرَادَ وَٱلْقُمَّلَ وَٱلضَّفَادِعَ وَٱلدَّمَ ءَايَٰتٍ
مُّفَصَّلَٰتٍ فَٱسْتَكْبَرُوا۟ وَكَانُوا۟ قَوْمًا مُّجْرِمِينَ ۝١٣٣

نو وليږل مونږ (آفتونه وار په وار) پر دوی طوفان «د اوبو يا د مرګ» او ملخان او سپږی (يا وړری يا کونی يا بروږی) او چونګښی (چيندخی) او وينی حال دا «چه دغه شيان» دلائل وو واضح سره بيل بيل کړی شوی نو تکبر وکړ دوی او وو دوی قوم ګنهګاران.

**تفسیر:** پس ولیږل مونږ پر دغو باندی پنځه آفتونه وار په وار.

(۱): د باران او سیلاو طوفان ﺋ چه اوه شپې او ورځې به باران پرله پسی پری وریده، چه د قبطیانو په کورونو او فصلونو کښی دومره اوبه ودریدی چه په ولاړی به ئی تر مری رسیدی، نو دوی به شپه او ورځ ولاړ وو او هلکان به ئی په هسکو (وچتو) ځایونو کښی کینولی وو. او د سبطیانو کوتی به هم ورسره پیوستی وی او په هغو کښی به یو تکی اوبه هم نه ننوتلی یا د طاعون له وجی د موت طوفان. علیٰ اختلاف الاقوال.

(۲): ملخ وو چه دا هم یوه هفته پری مسلط وو. او د دوی فصلونه او باغونه او د کوتو تیران او لاړی ئی تول وخواړه. او د سبطیانو په کورونو کښی یو هم نه ﺋ ننوتلی.

(۳): کونی یا وریی یا پیاده ملخ وو چه د دوی په طعام او په شرابو او په کتخ او نګولی کښی به لویدل او په جامو کښی به ئی ګرځیدل، او چیچل به ئی او دا هم یوه هفته ﺋ له «قمل» ځخه مراد بروړه «بتوکه، پیتکه» منګوړ (خمندک) او کونی (کنه) وی. لکه چه شیخ الهند رحمة الله علیه هم لیکلی دی یا سپږی یا هغه نور چنجیان دی چه په غلو او دانو او میوو «په تیره بیا په ګنیو» کښی پیدا کیږی، او په هغو سره غله او نور خرابیږی، یا په بدن کښی سپږی یا په کالیو (کپړو) کښی او بزی «کویه» لویږی ـ یعنی د دوی په بدنونو او کالیو (کپړو) کښی خوځندی او سپږی ولویدی، او په غلو کښی ئی بتوکی خرګندی شوی.

(٤): چونګښی (چیندخی) وی او دا هم یوه هفته وی چه په جامو او په طعام او د نګولیو په کتوو کښی او په بسترو او په خولو د دوی کښی په وخت د خبرو به وتی او ننوتی.

(٥): وینی وی چه اوبه د دوی بیخی وینی شوی. تر دی حده پوری چه که قبطی او سبطی «اسرائیلی» به په یوه لوښی سره جمع شول نو پر همغه یو جام کښی به د سبطی طرفته اوبه او د قبطی طرف ته به وینی وی. او که فرعونی به د اسرائیلی له خولی اوبه راوویستی نو د ده په خوله کښی به وینی شوی په دی حال کښی چه دا پنځه واړه نښی وی زمونږ د قدرت جدا کړی شوی یو له بله چه د هرو دوو تر منځه به یوه میاشت فاصله وه، او هره یوه چه به پری راغله نو ډیری سختی سختی وعدی به ئی وکړی چه دا آفت راڅخه لری کړه، نو ایمان به درباندی راوړو. بیا چه تری پورته به شو نو ویل به ئی چه ته ډیر لوی جادوګر ئی پس کبر وکړ دوی او سرکش شول له فرمانه زمونږ او وو دوی قوم مجرمان معاندان چه سره له ظهوره د آیتونو هم ایمان نه راوړی. یعنی وار په وار متدرجاً دا ګردی (تولی) علامی وروښوولی شوی. مګر دوی داسی متکبران او جرائم خوښوونکی او پاخه ګنهګاران وو، چه له سره تری متأثر نه شول ـ او په هیڅ ډول (طریقه) د اصلاح په لوری رانه غلل، له سعید بن جبیر رضی الله تعالیٰ عنه ځنی منقول دی «کله چه فرعون د موسیٰ علیه السلام مطالبه (د بنی اسرائیلو آزادی) تسلیم نه کړه نو الله تعالیٰ د باران لوی طوفان «ځپان» نازل کړ چه په هغه سره د دوی ګردو (تولو) کښتونو (فصلونو) او ونو او نورو شیانو ته د لویو لویو زیانونو اندیښنه پیدا شوه ـ بالاخره دوی وویریدل او له حضرت موسیٰ

علیه السلام څخه ئی غوښتنه وکړه چه له الله تعالیٰ څخه استدعا وکړه چه دغه د طوفان بلا له مونږه پورته کړی نو مونږ به ایمان راوړو او بنی اسرائیلو ته به آزادی ورکړو، او له تا سره به ئی پریږدو چه لاړ شی.
د موسیٰ علیه السلام په دعاء سره دغه د باران طوفان بند شو، او د نقصان په ځای ئی حاصلاتو ته ډیر ګټه (فائده) وروړسیده او ډیر زیات شول. نو فرعونیان کله چه له عذابه بی فکر شول او پخپلو عهدونو قائم پاتی نشول ـ نو بیا الله تعالیٰ د دوی په تیارو کښتونو (فصلونو) باندی ملخان ورنازل کړل چه دوی د هغو له لیدلو څخه ډیر زیات وویریدل او په خپلو منځونو کښی به ئی سره ویل چه دغه نوی آفت بیا له کومه راباندی نازل شو؟ بیا ئی له موسیٰ علیه السلام څخه دعاء وغوښته، او تینګه وعده ئی ورسره وکړه ـ که دغه عذاب له مونږه لری شو نو مونږ به ضرور مؤمنان شو، او بنی اسرائیل به خوشی کړو او مستقل به ئی وګرځوو. کله چه دغه عذاب هم له دوی څخنی لری شو ـ نو بیا سره داده او مطمئن شول ـ او د ګردو (تولو) وعدو ایفاء ئی هیره شوه ـ نو کله چه دوی خپل درمندونه واخیستل او توبری (بوریٔ) ئی پری ډکی کړی او په خپلو کورونو کښی ئی کیښودلی دلته د الله تعالیٰ په حکم سره په دوی کښی چنجیان سپږی «بتوکی، پیتکی» پیدا شوی بیا ئی له موسیٰ علیه السلام څخه دعاء وغوښته او کلک عهد او پیمان ئی ورسره وکړ خو هم دا چه هغه حالت هم ختم شو ـ دوی بیا لکه پخوا په خپله وعده خلافی او سر غړونو کښی لګیا شول، دلته الله تعالیٰ د دوی د خوړو او څښلو شیان بی خونده او ورخرابه کړل، او چونګښی (چیندخی) دومره زیاتی پیدا شوی چه د خوړلو او څښلو په هر شی او هر لوښی کښی ډیری زیاتی په نظر راتلی ـ کله به چه دوی د وینا یا خوراک یا څښلو یا نورو له پاره خپلی خولی پرانیتلی، سم د لاسه به چونګښی (چیندخی) د دوی خولو ته ورټوپ کړ ـ او د چونګښو (چیندخو) له کثرته پر دوی ملاسته ناسته ولاړه او تګ او راتګ ډیر سخت او مشکل شو، له بل لوری هغه اوبه چه دوی د څښلو له پاره اخیستی، د الله تعالیٰ په حکم سره به د دوی په لوښو او خولو کښی پس له رسیدلو څخه وینی ګرځیدی یا به د دوی له پوزو څخنی وینی بهیدی لنده ئی دا چه دوی په خپلو خوړو، څښلو او ګردو (تولو) حرکاتو او افعالو کښی به سختو ربړونو (تکلیفونو) او مشکلاتو اخته شوی وو، خو سره له هغه هم دوی له لوئی او تکبر څخه لاس نه اخیست.

وَلَمَّا وَقَعَ عَلَيۡهِمُ ٱلرِّجۡزُ قَالُواْ يَٰمُوسَى ٱدۡعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِندَكَۖ لَئِن كَشَفۡتَ عَنَّا ٱلرِّجۡزَ لَنُؤۡمِنَنَّ لَكَ وَلَنُرۡسِلَنَّ مَعَكَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ١٣٤

او کله چه واقع شو پر دغو «فرعونیانو» کوم عذاب «له دغو ذکر شویو عذابونو» ویل به دوی ای موسٰی دعاء وکړه له پاره زمونږ له رب خپل څخه په هغه سره چه وعده ئی کړی وه له تا سره، قسم دی خامخا که لری کړ تا له مونږه دغه عذاب نو خامخا «مونږ» به ایمان راوړو هرومرو (خامخا) په تا او خامخا به ولیږو له تا سره بنی اسرائیل «چه بیرته ئی خپل وطن ته بوځی».

---

**تفسیر:** یعنی د دعاء هغه مؤثری طریقی چه پاک الله تاسی ته درښوولی دی په همغه شان سره دعاء وکړه! یا د ﴿بِمَا عَهِدَ عِندَكَ﴾ مطلب دا دی چه د خپل نبوت په وسیله دعاء وکړه! ـ ګواکی د عهد اطلاق پر نبوت وشو ځکه د الله تعالیٰ او د نبی په منځ کښی یو راز (قسم) معاهده وی چه الله تعالیٰ به نبی ته د اکرام په خلعت او اعانت سره سر لوړی ورکوی ـ او نبی ته د الله تعالیٰ په پیغام رسولو کښی هیڅ کمی او قصور نه کوی. او ممکن دی له ﴿بِمَا عَهِدَ عِندَكَ﴾ څخه هغه عهد مراد وی چه د انبیاؤ علیهم اسلام په واسطه له اقوامو سره کاوه شی چه که تاسی له کفر او تکذیبه مخ واړوئ نو د الٰهی عذاب به هم له تاسی پورته کیږی. والله اعلم.

---

فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الرِّجْزَ إِلَىٰٓ أَجَلٍ هُم بَٰلِغُوهُ إِذَا هُمْ يَنكُثُونَ ﴿۱۳۵﴾

---

نو کله چه لری کړ مونږ له دوی دغه عذاب «او مؤخر مو کړ» تر هغی نیتی پوری چه دوی رسیدونکی وو هغی ته ناڅاپه دوی هغه وعده ماته کړه.

---

**تفسیر:** یا خو له دی مودی څخه تر موت او تر غرقیدلو پوری موده مراد ده، یا ممکن له یوی بلا څخه وروسته د بلی بلا تر راتلو پوری وخت مراد وی.

---

فَانتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَأَغْرَقْنَٰهُمْ فِى ٱلْيَمِّ بِأَنَّهُمْ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا وَكَانُوا۟ عَنْهَا غَٰفِلِينَ ﴿۱۳۶﴾

---

پس اراده د بدل اخیستو وفرمایله مونږ له دوی څخه نو غرق کړل مونږ دوی «تول له څرمی» په بحر «دریاب کښی » په سبب د دی چه دوی به تکذیب کاوه په آیتونو «دلائلو د قدرت او عبرت» زمونږ او وو دوی له هغو « آیتونو ځنی» غافلان (چه فکر به ئی پکښی نه کاوه).

---

**تفسیر:** ځینو مفسرینو د «رجز» معنی په طاعون سره کړی ده، لکه چه په ځینو احادیثو کښی

هم د دی لفظ اطلاق پر طاعون سره شوی دی. لیکن اکثرو مفسرینو دغه آیتونه د پخوانیو آیتونو بیان گرځولی دی. په «موضح القرآن» کښې راغلی دی چه دغه گرد (تول) بلیات به پر دوی په یوه یوه هفته (اونی) کښې وړاندی وروسته نازل شوی وی، پرومبی به حضرت موسٰی علیه السلام فرعون ته ویل چه دغه بلا پر تاسی فرعونیانو راتلونکی ده، بیا به همغه بلا پر دوی نازلیده، بیا به دوی مضطر او مضطرب کیدل او د حضرت موسٰی علیه السلام خوشامندی به ئی کولی، کله چه هغه مصیبت به د حضرت موسٰی علیه السلام په دعاء سره لری کیده دوی به بیا منکریدل، بالاخر پر دوی وباء نازله شوه، تر نیمی شپی پوری په گرد (تول) ښار کښې د هر سړی پرومبنی هلک مړ شو. کله چه دوی د خپلو مړو په ویر او غم کښې اخته شول نو حضرت موسٰی علیه السلام له خپل قوم سره ووت، بیا څو ورځی وروسته فرعونیان هم پر دوی پسی ووتل او د قلزم بحر (دریاب) ته نژدی دوی پسی ور ورسیدل اسرائیلیان روغ رمټ له دریاب څخه پوری وتل، او فرعون له خپل فرعونی فوج سره پکښې غرق شول.

---

وَأَوۡرَثۡنَا ٱلۡقَوۡمَ ٱلَّذِينَ كَانُواْ يُسۡتَضۡعَفُونَ مَشَٰرِقَ ٱلۡأَرۡضِ وَمَغَٰرِبَهَا ٱلَّتِي بَٰرَكۡنَا فِيهَاۖ

---

او وروسته له پخوانیو څخه ورکړه مونږ هغه قوم (د بنی اسرائیلو) ته چه وو دوی چه کمزوری گڼل کیدل مشرقی «اطراف د» ځمکی او مغربی «اطراف د» ځمکی هغه چه برکت اچولی ؤ مونږ په هغی کښې «چه شامات دی».

---

**تفسیر:** د اکثرو مفسرینو په نزد له دغی ځمکی څخه مراد د (شام) ملک دی چه په هغه کښې الله تعالیٰ ظاهری او باطنی ډیر برکات په ودیعت ایښی دی، ظاهر خو ئی دا دی چه ډیر زرغون، ودان، حاصل خیز ښکلی او خوړا (ډیر) لوړ او گټور (فائده‌مند) مملکت دی، او باطن ئی دا دی چه د ډیرو انبیاؤ علیهم السلام مسکن، او مدفن گرځولی شوی دی. کله چه بنی اسرائیل له مصر څخنی ووتل نو تر یوی مودی پوری د «تیه» په صحرا (میره) کښې سرگردانه گرځیدل لکه چه ذکر ئی پخوا تیر شو، بیا له حضرت یوشع علیه السلام سره ملگری شول او له «عمالقه» ؤ سره ئی جهاد وکړ، او د خپلو پلرونو د ملک «شام» وارثان وگرځیدل. ځینو مفسرینو له دغی ځمکی څخه مصر مراد کړی دی. یعنی د فرعونیانو له غرقولو څخه وروسته مونږ بنی اسرائیل د مصر د حکومت وارثان وگرځول، چه په آزادی او خپلواکی او استقلال سره تری متمتع او گټور شی، کما قال الله تعالیٰ ﴿كَمۡ تَرَكُواْ مِن جَنَّٰتٖ وَعُيُونٖ وَزُرُوعٖ وَمَقَامٖ كَرِيمٖ وَنَعۡمَةٖ كَانُواْ فِيهَا فَٰكِهِينَ كَذَٰلِكَۖ وَأَوۡرَثۡنَٰهَا قَوۡمًا ءَاخَرِينَ﴾ «۲۵ جزء د دخان «۲۵» تر ۲۸ آیة ۱ رکوع» ﴿وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱسۡتُضۡعِفُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَنَجۡعَلَهُمۡ أَئِمَّةٗ وَنَجۡعَلَهُمُ

﴿ الْوَارِثِينَ وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَنُرِيَ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَجُنُودَهُمَا مِنْهُمْ مَّا كَانُوا يَحْذَرُونَ ﴾
٢٠ جزء د القصص «٥ او ٦» آية «١» رکوع) په دغه تقدير سره د مصر ظاهري برکات خو ظاهر دي، او باطني برکات به ئي له دي حيثيته وي چه حضرت يوسف عليه السلام هملته مدفون دی، او حضرت يعقوب عليه السلام هم هلته تشريف وړی ؤ، او په آخر کښې حضرت موسٰى او هارون عليهم السلام هم له وړوکتوبه تر زوړتوبه پوه اوږده زمانه هلته تيره کړی ده . امام بغوی «رحمه الله» د مفسرينو دغه دواړه اقوال سره جمع کړی او په دغه ځای کښې ئی مصر او شام دواړه مراد کړی دی.

---

وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ الْحُسْنَىٰ عَلَىٰ بَنِي إِسْرَائِيلَ بِمَا صَبَرُوا ۖ وَدَمَّرْنَا مَا كَانَ يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهُ وَمَا كَانُوا يَعْرِشُونَ ﴿١٣٧﴾

---

او پوره شوه کلمه (او وفاء ته ورسيده وعده) د رب ستا چه نيکه ده «دا احسان» پر بنی اسرائيلو په سبب د صبر کولو د دوی «پر ظلمونو د فرعونيانو» او خرابی کړی مونږ هغه «کلکی ودانی» چه وی چه ودانولی به فرعون او قوم د ده او هغه (پخی پخی ودانی) چه وو دوی چه لوړولی به دوی «هغه».

---

**تفسير:** يعنی کله چه اسرائيليانو د فرعونيانو پر سختو مهلکو او سپکوونکو شدائدو صبر وکړ، او د موسٰى عليه السلام له هدايت سره ئی سم له الله تعالٰی څخه استعانت وغوښت، او د الله تعالٰی له رسول حضرت موسٰى عليه السلام سره ئی ملګرتوب وکړ نو پاک الله هغه نيکی وعدی چه له دوی سره ئی کړی وی، ﴿ عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَن يُهْلِكَ عَدُوَّكُمْ ﴾ الآية - او ﴿ وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا ﴾ الآية - پوره کړی، او نورو ته ئی هم وروښوولی، هغه مناظر او مظاهر چه فرعون او فرعونيانو د کبر، او نخوت د اظهار دپاره جوړ کړی وو هغه ګرد (تول) تباه او خراب او پوپنا شول، د دوی تول سرايونه او کلاګانی او پخی پخی مانی او لوړی لوړی بنګلی خرابی او ړنګی کړی شوی رښتيا ده ﴿ إِنَّ الْمُلُوكَ إِذَا دَخَلُوا قَرْيَةً أَفْسَدُوهَا وَجَعَلُوا أَعِزَّةَ أَهْلِهَا أَذِلَّةً ﴾ (١٩ جزء د النمل سورت ٣٤ آيت «٢» رکوع).

---

وَجَاوَزْنَا بِبَنِي إِسْرَائِيلَ الْبَحْرَ فَأَتَوْا عَلَىٰ قَوْمٍ يَعْكُفُونَ

عَلٰٓى اَصْنَامٍ لَّهُمْ ۚ قَالُوْا يٰمُوْسَى اجْعَلْ لَّنَآ اِلٰهًا كَمَا لَهُمْ اٰلِهَةٌ ۗ قَالَ اِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُوْنَ ﴿۱۳۸﴾ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ مُتَبَّرٌ مَّا هُمْ فِيْهِ وَبٰطِلٌ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۳۹﴾

او تیر کړل مونږ بنی اسرائیل له بحره نو راغلل دوی پر یوه قوم چه تل به ولاړ ؤ په «عبادت د» بتانو چه وو دوی لره، نو ویل «بنی اسرائیلو» ای موسٰي! جوړ کړه مونږ لره (هم) یو معبود لکه چه دی دوی لره معبودان وویل «موسٰی» بیشکه تاسی داسی یو قوم یئ چه نه پوهیږئ «چه بت پرستی د عاقلانو کار نه دی». بیشکه دغه (بت پرستان) هلاک «او مات» دی هغه دین چه دوی په هغه کښی دی او باطل «غلط» دی هغه عمل چه وی دوی چه کوی «ئی».

**تفسیر:** ځینی وائی چه دغه د «لخم» د قبیلی سری وو او ځینو «کنعانی عمالقه» د دی مصداق کرځولی دی، وائی چه دغه بتان د غوا په شکل وو. والله اعلم.

(او کله چه بنی اسرائیلو دغه بت پرستی ولیده نو حضرت موسٰی علیه السلام ته ئی وویل چه مونږ ته هم داسی بتان جوړ کړه چه مونږ ئی هم عبادت وکړو لکه چه شته دوی ته بتان چه عبادت ئی کوی نو وویل موسٰی علیه السلام بیشکه تاسی داسی قوم یئ چه ناپوهی کوئ چه بی له الله د بل چا عبادت هم روا ګڼئ) یعنی د حق تعالیٰ د عظمت له شان او د ده له تنزیه او تقدیس څخه تاسی بیخی ناپوه او جاهلان ښکارئ. دغه واقعه داسی وه چه تر یوی اوږدی مودی پوری له مصری بت پرستانو سره د هستوګنی لامله (له وجی) د بنی اسرائیلو میلان د بت پرستی د افعالو او شرکیه ؤ رسومو په لوری زیات شوی ؤ. او څو څو ځلی ئی خپل تمایل هم دغه لوری ته ښکاره کړ. نو دغه چتی (بیکاره) او د ناپوهی پوښتنه د مصر د اوبو او هواء او د دی ځای د بت پرستانو د صحبت تأثیرات ښکاروی حضرت شاه صاحب لیکی چه «جاهل انسان ته د غیر مرئی او بی صورت معبود له عبادت څخه هیڅ ډادینه او تسکین نه حاصلیږی او هم دا غواړی چه خامخا یو صورت او شکل ئی په مخ کښی وی. دوی یو قوم ولید چه د غوا شکل ته ئی عبادت کاوه نو دوی ته هم داسی یوه مینه او هوس پیدا شو، بالاخره دوی هم له سرو زرو څخنی یو خسی جوړ کړ او د هغه په عبادت کښی لګیا شول».

﴿ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ مُتَبَّرٌ ﴾ الآیة ـ بیشکه دغه بت پرستان هلاک او مات دی هغه دین چه دوی په هغه کښی دی او باطل دی هغه عمل چه وی دوی چه کوی ئی) یعنی وروسته له دی د دوی د بت پرستی مذهب زما او د اهل الحق په لاسونو تباه او پنا کیدونکی دی او هغه مکر او فریب او نقلونه چه تاسی تراوسه پوری جوړ کری دی هغه بیخی باطل، غلط بیکاره او بی حقیقته دی.

قَالَ أَغَيْرَ اللَّهِ أَبْغِيكُمْ إِلَٰهًا وَهُوَ فَضَّلَكُمْ عَلَى الْعَالَمِينَ ﴿١٤٠﴾

وویل «موسیٰ» آیا بی له الله ولټوم زه تاسی ته (بل) معبود حال دا چه هم دغه الله فضیلت درکړی تاسی ته «غوره کړی ئی یئ» پر ګردو (ټولو) خلقو (د زمانی خپلی).

**تفسیر:** یعنی د الله د لویو انعامونو شکر ګزاری او حق پیژندل آیا هم داسی کیدی شی چه د غیر الله عبادت وکړ شی؟ او له الله تعالیٰ څخه باغی شی؟ بلکه نشی کیدی ! دا خو ډیر د شرم ځای دی هغه مخلوق چه ده ته الله تعالیٰ پر ګرد (ټول) جهان فضیلت ښیلی دی په خپل لاس جوړ کړیو بتانو او شیانو ته پرمخی سر په سجده ولویږی. نو آیا مفضول د افضل معبود کیدی شی؟ حال دا چه الله تعالیٰ فضیلت درکړی تاسی ته، په انواعو د نعمتونو سره چه یو له هغو څخه دا دی

وَإِذْ أَنْجَيْنَاكُمْ مِنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوءَ الْعَذَابِ ۖ يُقَتِّلُونَ أَبْنَاءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَاءَكُمْ ۚ وَفِي ذَٰلِكُمْ بَلَاءٌ مِنْ رَبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴿١٤١﴾

او «یاد کړئ» هغه وخت چه نجات درکړی ؤ مونږ «نیکونو د» تاسی ته له تابعانو د فرعون چه رساوه به ئی تاسی ته سخت عذاب، چه وژل به ئی ځامن ستاسی (چه نسل مو قطع شی) او ژوندی به ئی پریښودی ښځی «لونی» ستاسی «دپاره د خدمت» او په دغه (عذاب یا نجات یا ګردو (ټولو) کښی نعمت یا مصیبت یا) ازمیښت ؤ له «طرفه د» رب ستاسی څخه ډیر لوی.

**تفسیر:** د دی آیت تفسیر په اول جزء د البقرة په «٤٩» آیت (٦) رکوع کښی پخوا لیکلی شوی دی. هلته دی وکوت شی. یعنی هغه پاک الله چه هم دا اوس ئی پر تاسی داسی عظیم الشان احسان فرمایلی دی نو آیا تاسی ولی د هغه له درباره باغی کیږئ؟ او تری مخ اړوئ؟ او لرګیو او تیږو (ګټو) او نورو شیانو ته ولی تاسی خپل سرونه ښکته کوئ؟

وَوَاعَدْنَا مُوسَىٰ ثَلَاثِينَ لَيْلَةً وَأَتْمَمْنَاهَا بِعَشْرٍ فَتَمَّ مِيقَاتُ رَبِّهِ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ۚ وَقَالَ مُوسَىٰ لِأَخِيهِ

هٰرُوْنَ اخْلُفْنِيْ فِيْ قَوْمِيْ وَاَصْلِحْ وَلَا تَتَّبِعْ سَبِيْلَ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿١٤٢﴾

او (یاد کړه هغه وخت چه) وعده کړی وه مونږ «له پاره د ورکولو د تورات» له موسیٰ سره دیرش شپی او بیا پوره کړی مونږ هغه دیرش شپی په لسو «نورو» نو پوره شوه وعده د رب د ده څلویښت شپی (او ورځی)، او وویل موسیٰ ورور خپل هارون ته (طور ته د خپل تګ په وخت کښی د تورات او مناجات له پاره) چه خلیفه اوسه زما په دی قوم زما کښی «په غیاب زما» او اصلاح کوه (حال د دوی) او متابعت مه کوه د لاری د مفسدانو.

**تفسیر:** کله چه بنی اسرائیلو ته له راز راز (قسم قسم) پریشانیو څخنی اطمینان په برخه شو نو دوی له حضرت موسیٰ علیه السلام څخه داسی غوښتنه وکره چه اوس تاسی مونږ ته کوم آسمانی شریعت راوړئ!، چه مونږ پری په اطمینان سره عمل او خپل صداقت ښکاره کړو، موسیٰ علیه السلام د دوی دغه معروضه د پاک الله په دربار کښی تقدیمه کره. الله تعالیٰ له ده سره ادنٰی وعده چه کړی وه د دیرشو ورځو او شپو وه او له اوږدو څخنی اوږده وعده د څلویښتو ورځو او شپو چه کله دومره موده ته روژی ونیسی او د طور پر غره معتکف واوسی نو تاته به تورات شریف درعنایت شی. د دی زیاتی او کمی نیتی له کیښودلو څخه ښائی دغه مطلب ؤ که د ریاضت په منځ کښی د عبودیت په وظائفو او د تقرب د آدابو د اداء کولو په اعتبار هیڅ قسم کمی او تقصیر ظاهر نشی نو کمه موده دیرش ورځی به بس وی که نه اکثر الاجلین (٤٠) ورځی به پوره کیږی. یا له شروع څخه تر دیرشو ورځو پوری ضروری او لازمی میعاد به ګرځولی شوی وی او د څلویښتو ورځو پوره کول به له اختیاری او استحبابی حیثیته د اصلی میعاد د تکمیل او تتمیم په دول (طریقه) تاکلی (مقرر) شوی وی لکه چه شعیب علیه السلام موسیٰ علیه السلام ته د خپلی لور د ورکولو په وخت کښی فرمایلی ؤ، ﴿ عَلٰٓى اَنْ تَاْجُرَنِيْ ثَمٰنِيَ حِجَجٍ فَاِنْ اَتْمَمْتَ عَشْرًا فَمِنْ عِنْدِكَ وَمَآ اُرِيْدُ اَنْ اَشُقَّ عَلَيْكَ ﴾ «٢٠ جزء د القصص ٢٧ آیت ٣ رکوع» او زمونږ د زمانی څینی مصنفین داسی وائی چه اصلی میعاد هم دغه څلویښت شپی وی لکه چه د البقرة په سورت کښی مذکور دی، او دلته په ﴿ فَتَمَّ مِيْقَاتُ رَبِّهٖٓ ﴾ کښی ورته اشاره کړی شوی ده دا د هغو څلویښتو ورځو د بیان یو اسلوب دی چه مونږ د دیرشو شپو وعده کړی وه چه د هغه تتمه لس ورځی نوری هم وی څو اشاره وشی چه یوه پوره میاشت د «ذی القعدة الحرام» لس شپی نوری هم ور زیاتی کړی شوی دی چه په دغه دول (طریقه) د ذی القعدة الحرام په اوله کښی اعتکاف شروع او په لسمه د ذی الحجة الحرام تمام شو، لکه چه له اکثرو اسلافو څخنی هم دا منقول دی. والله اعلم، موضح القرآن وائی چه حق تعالیٰ له موسیٰ علیه السلام سره

وعده وفرمایله چه پر غره تر دیرشو شپو معتکف شه چه ستا قوم ته تورات درعطا کړم په دغه موده کښې موسٰی علیه السلام یوه ورځ مسواک استعمال کړ پرښتو چه د ده د خولې له خوشبوئې سره مینه درلوده (لرله) د هغه له فقدانه متاثرې شوې نو د هغه په بدل کښې لس شپې نورې هم پرې ور زیاتې شوې او موده ئې پوره کړه .».

﴿ وَقَالَ مُوسَىٰ لِأَخِيهِ هَٰرُونَ اخْلُفْنِي ﴾ الآية - او وویل موسٰی وررور خپل هارون ته په وخت د تلو خپلو کښې طور ته له پاره د تورات او مناجات چه خلیفه زما اوسه په دې قوم زما کښې او اصلاح کړه حال د دوی او متابعت مه کوه د لارې د مفسدینو) یعنې زما په غیاب کښې زما برخه کار هم دا ته وکړه! ګواکې د اوامرو او نواهیو او شرائعو هغه اختیارات چه موسٰی علیه السلام سره مخصوص ؤ د موسٰی علیه السلام د غیاب په موده کښې هغه هارون علیه السلام ته ور وسپارل شول او څرنګه چه موسٰی علیه السلام د بنی اسرائیلو د تلون مزاجې او سست اعتقادې پوره تجربه درلوده (لرله) نو ځکه یې په زیات تصریح او ډیر تاکید سره هارون علیه السلام ته تنبیه ورکړه چه که وروسته زما دغه سبطیان (بنی اسرائیل) شور ماشور وکړی نو ته ئې په اصلاح کښې کوشش وکړه !، او تل زما په طریقه سره تګ وکړه ! او د مفسدینو په لاره له سره مه ځه!، د الله تعالیٰ مشیت وګورئ چه موسٰی علیه السلام له دغه وصیت نه وروسته د طور په لورې لاړ دلته بنی اسرائیلو د خسی په عبادت پیل (شروع) وکړ، مګر حضرت هارون علیه السلام د موجوده انجیل لیکونکو علی الرغم دوی ته داسې وویل ﴿ يَٰقَوْمِ إِنَّمَا فُتِنتُم بِهِۦ وَإِنَّ رَبَّكُمُ الرَّحْمَٰنُ فَاتَّبِعُونِي وَأَطِيعُوٓا أَمْرِي ﴾ او هارون علیه السلام د دوی د ګمراهي او د خپلې بیزارۍ اعلان په صاف ډول (طریقه) سره وکړ او د حضرت موسٰی علیه السلام له وصیت سره ئې سم د هغو د حال د اصلاح له پاره څو چه امکان ؤ ډیر کوښښونه وکړل.

---

وَلَمَّا جَآءَ مُوسَىٰ لِمِيقَٰتِنَا وَكَلَّمَهُۥ رَبُّهُۥ قَالَ رَبِّ أَرِنِىٓ أَنظُرْ إِلَيْكَ ۚ قَالَ لَن تَرَىٰنِى وَلَٰكِنِ ٱنظُرْ إِلَى ٱلْجَبَلِ فَإِنِ ٱسْتَقَرَّ مَكَانَهُۥ فَسَوْفَ تَرَىٰنِى ۚ فَلَمَّا تَجَلَّىٰ رَبُّهُۥ لِلْجَبَلِ جَعَلَهُۥ دَكًّا وَخَرَّ مُوسَىٰ صَعِقًا ۚ فَلَمَّآ أَفَاقَ قَالَ سُبْحَٰنَكَ تُبْتُ إِلَيْكَ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٤٣﴾

---

او کله چه راغی (راورسید) موسٰی موعود وخت زمونږ ته او کلام وکړ له دغه

«موسٰی» سره رب د دغه موسٰی نو وویل «موسٰی» ای ربه زما وښیه ماته «ځان خپل» چه زه وګورم تاته وفرمایل (الله) له سره به ونه وینی ته ما «په دنیا کښی» ولیکن وګوره ته «دی» غره ته که قرار پاتی شو هغه «غر» په ځای خپل کښی نو ژر به ته هم ووینی ما، نو کله چه (بلاکیف) تجلی وکړه رب د دغه «موسٰی ظاهر ئی کړ نور خپل» غره ته نو وئی ګرځاوه هغه «غر» ذری ذری «برابر له ځمکی سره» او پریووت موسٰی بیخوده «له ډیره هیبته تر ۲٤ ساعته» نو کله چه په خود شو «موسٰی نو» وویل چه پاکی ده تاته «یا الله له تولو عیبونو» توبه می وویسته تاته او زه اول د مؤمنانو یم (په زمانه خپله په نه لیدلو ستا په دنیا کښی).

---

**تفسیر:** د څلویښتو ورځو له پوره کیدلو څخه وروسته حق تعالیٰ په کوم مخصوص او ممتاز رنګ سره موسٰی علیه السلام ته د مکالمی شرف وروباښه په دی وخت کښی حضرت موسٰی علیه السلام ته د کلام الله د بلا واسطی اوریدلو څخه ډیر زیات خوند او لذت حاصل شو نو د اشتیاق له کماله د متکلم د لیدلو آرزو او تمنا ئی وکړه، او په ساده ډول (طریقه) سره ئی تری غوښتنه وکړه چه ﴿رَبِّ أَرِنِيٓ أَنظُرۡ إِلَيۡكَ﴾ ای ربه! زما او د خپل تر منځ حجاب او موانع لری کړه! او خپله نورانی او دیدار وجه دی بی حجابه راوښیه چه زه ئی یو ځلی لږ ووینم!

قَالَ لَن تَرَىٰنِي وفرمایل الله له سره به ته ونه وینی ما په دنیا کښی یعنی په دنیا کښی به هیڅ مخلوق دغه فانی وجود او فانی قواوی د هغه ﴿ذُو ٱلۡجَلَٰلِ وَٱلۡإِكۡرَامِ﴾ او د **«لم یزل او لایزال»** د لیدلو تحمل ونشی کولی له دی نه ثابته شوه چه په دنیا کښی هر چا ته پخوا له مرګ څخه د الله تعالیٰ د لقاء او دیدار شرف حاصلیدل شرعاً ممتنع دی، اګر که عقلاً ممکن هم وی ځکه که عقلی امکان ئی هم ونه منی شی، نو د موسٰی علیه السلام په شان د یو جلیل القدر رسول په نسبت به څرنګه دغسی خیال کیدی شی چه ده به د یوه محال عقلی شی غوښتنه کړی وی؟ زمونږ د «اهل السنت والجماعت» عقیده هم دا ده چه د باری تعالیٰ رؤیت په دنیا کښی عقلاً ممکن او شرعاً ممتنع الوقوع دی او په آخرت کښی د هغه وقوع په قطعی نصوصو سره ثابت دی. پاتی شو زمونږ د رسول صلی الله علیه وسلم رؤیت په لیلة المعراج کښی هغه اختلافی مسئله ده چه ذکر به ئی انشاء الله تعالیٰ په «۲۷» جزء د النجم د سورت په «۱٦» آیت اوله رکوع کښی راشی.

﴿وَلَٰكِنِ ٱنظُرۡ إِلَى ٱلۡجَبَلِ﴾ الآیة - ولیکن وګوره ته ای موسٰی! دی غره ته که قرار پاتی شو هغه غر په ځای خپل کښی نو ژر به ته هم ووینی ما) یعنی ته د غره په لوری وګوره چه مونږ د خپل جمال یو بڅرکی تجلی پری غورځوو که د غره غوندی یو سخت او مضبوط شی د هغه لږ څه تجلی تحمل وکړی شی، نو امکان لری چه ته هم د هغی متحمل شی که نه وپوهیږه چه د هغه شی تحمل چه غر ئی هم ونه شی کړی نو د یوه انسان مادی ترکیب او جسمانی سترګی به

خرنگه د هغه تحمل وکړی شی؟ اګر که د قلبی او روحانی طاقت په اعتبار د ځمکی، آسمان، غرونو او ګردو (تولو) شیانو ځنی انسان فائق هم وی، نو ځکه موسٰی علیه السلام د هغی الهٰی وحی چه حامل ؤ بلکه نور انسانان هم د هغه عظیم امانت چه حاملان یی دی، غرونه او نور موجودات د هغه په پورته کولو قادر نه دی ﴿ إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَن يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْإِنسَانُ إِنَّهُ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا ﴾ (۲۲ جزء د الاحزاب د سورت ۷۲ آیة ۹ رکوع) ﴿ لَوْ أَنزَلْنَا هَٰذَا الْقُرْآنَ عَلَىٰ جَبَلٍ لَّرَأَيْتَهُ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللَّهِ ﴾ (۲۸ جزء د الحشر ۲۱ آیت ۳ رکوع) بیا هم په هغو شیانو کښی چه د هغو تعلق په ظاهری سترګو یا د بدن په مادی قوت سره وی په دغو کښی انسان د نورو عظیم الخلقت شیانو په مقابل کښی ډیر ضعیف کمزور او کم قوت واقع شوی دی ﴿ لَخَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ أَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ النَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ (۲٤ جزء د المؤمن ۵۷ آیت ٦ رکوع) ﴿ وَخُلِقَ الْإِنسَانُ ضَعِيفًا ﴾ ۵ جزء د النساء ۲۸ آیت ۵ رکوع په دی ځای کښی موسٰی علیه السلام ته د انسانی وجود د هم دغی کمزوری په لوری توجه ورکړی شوی ده.

﴿ فَلَمَّا تَجَلَّىٰ رَبُّهُ لِلْجَبَلِ ﴾ الآیة - نو کله چه بلاکیف تجلی وکړه رب د ده ظاهر ئی کړ نور خپل هغه غره ته نو وئی ګرځاوه ذری ذری برابر له ځمکی سره او پریووت موسٰی بیخوده.) د حق تعالیٰ تجلیات ډیر انواع او اقسام لری. او دغه د الله تعالیٰ ارادی فعل دی چه پر هر شی په هر ډول (طریقه) چه اراده وفرمائی، تجلی کوی، پر غره باندی کومه تجلی چه شوی ده، سم د لاسه د هغی په اثر د غره خاصه برخه بخرکی بخرکی شوی ده او خرنګه چه موسٰی علیه السلام د تجلی محل ته نژدی ؤ په دی باندی دغه د محل قرب او د غره هیبتناکی منظری داسی تاثیر وغورځاوه چه بیخوده ولوید. بلا تشبیه داسی ئی وګڼئ کله چه بریښنا پر کوم شی لویږی هغه خرنګه سوځوی او په یوه رپ «ثانیه» کښی ئی تکه توره خاوره وګرځوی او هغه کسان چه د دغه ځای په شا وخوا کښی وی ډیر ځله هغوی ته هم څه لږ یا ډیره صدمه او زیان هم وررسیږی.

﴿ فَلَمَّا أَفَاقَ ﴾ الآیة - نو کله چه په خود شو موسٰی نو وئی ویل چه پاکی ده تاته ای الله! له تولو عیبونو توبه می وویسته تاته او زه اول د مؤمنانو یقین کوونکی یم په زمانه خپله کښی په نه لیدلو ستا په دنیا کښی ) یعنی الله تعالیٰ له دی نه پاک دی چه له کوم مخلوق سره مشابه وی او دغه فانی سترګی د هغه د باقی ذات د لیدلو متحملی شی، ستا د پاکی او برتری اقتضاء دا ده چه د هیڅ شی طلب بی د ستا له اجازی ونه کړی شی، زه توبه کوم چه د اشتیاق له فرطه (زیاتوځ) بی د ستا له اجازی یوه داسی نامناسبه غوښتنه می له تا څخه وکړه، زه په خپله زمانه کښی له ګردو (تولو) ځنی پخوا ستا پر عظمت او جلال یقین لرم او هغه ړومبی سړی یم چه ماته په ذوقی او عیانی ډول (طریقه) دغه امر منکشف شوی دی چه د پاک الله لیدل په دغه دنیا کښی په دغو ظاهری سترګو سره نشی کیدی .

قَالَ يٰمُوسٰى اِنِّى اصۡطَفَيۡتُكَ عَلَى النَّاسِ بِرِسٰلٰتِىۡ وَ بِكَلَامِىۡ ۖ فَخُذۡ مَاۤ اٰتَيۡتُكَ وَكُنۡ مِّنَ الشّٰكِرِيۡنَ ﴿۱۴۴﴾

وفرمایل (الله چه مه خپه کیږه په نه لیدلو زما او نعمتونه می یاد کړه) ای موسٰی بیشکه ما غوره کړی ئی ته پر تولو خلقو (د زمانی ستا) په پیغامونو خپلو او په کلام خپل سره «بی له واسطی» نو ونیسه! هغه څه چه درکړی می دی تاته او اوسه له شکر ایستونکو.

**تفسیر:** یعنی که لیدل ونشول خیر دی! آیا دغه شرف او امتیاز خو لږ شی نه دی چه ته می خپل رسول وګرځولی او تورات می درعطا کړ او بلا واسطه می درسره کلام وفرمایه. نو هغومره عطا او احسانات چه زمونږ له لوری پر تا شوی دی هغه نورو ته وروسپاره!، او په هغو بندګانو کښی شامل شه! چه الله تعالیٰ د شاکرینو په امتیاز سره هغوی ممتاز فرمایلی دی.

وَكَتَبۡنَا لَهٗ فِى الۡاَلۡوَاحِ مِنۡ كُلِّ شَىۡءٍ مَّوۡعِظَةً وَّتَفۡصِيۡلًا لِّـكُلِّ شَىۡءٍ ۚ فَخُذۡهَا بِقُوَّةٍ وَّاۡمُرۡ قَوۡمَكَ يَاۡخُذُوۡا بِاَحۡسَنِهَا ؕ سَاُورِيۡكُمۡ دَارَ الۡفٰسِقِيۡنَ ﴿۱۴۵﴾

او لیکلی ؤ مونږ دغه (موسٰی) ته په تختو «د تورات» کښی له هر «دینی» شی څخنی موعظه «پند» او تفصیل دپاره د هر شی «له احکامو» (بیا مو وفرمایل موسٰی ته) پس واخله دا «تختی د تورات» په کامل قوت (زور، عزم، کوښښ) سره او امر «حکم» وکړه قوم خپل ته چه ونیسی «عمل وکړی» په ډیر غوره «احکامو» د دی ژر به وښیم زه تاسی ته ځای د هستوګنی د فاسقانو.

**تفسیر:** ځینی وائی چه تورات شریف پر دغو تختو باندی لیکلی شوی ؤ د ځینو علماؤ خیال داسی دی چه دغه تختی پر تورات علاوه وی چه د تورات له نزوله پخوا ورمرحمت شوی وی په هر حال د خدای جل جلاله لیدل وریه برخه نشوه هغه خپګان، او تأثر چه موسٰی علیه السلام ته د خدای جل جلاله سره د نه لقاء له کبله (وجی) حاصل شوی ؤ د هغه تلافی او جبران ئی د الواحو په عطا سره وفرمایل چه پکښی هر دول (طریقه) نصائح او د ګردو (تولو) ضروری

احکامو تفصیلات وو «ابن کثیر».

﴿ فَخُذْهَا بِقُوَّةٍ وَأْمُرْ قَوْمَكَ ﴾ الآیة - نو وفرمایل مونږ واخله دا تختی په قوت، کامل کوښښ سره او امر «حکم» وکړه قوم خپل ته چه ونیسی عمل وکړی په ډیر غوره احکامو د دی، ژر به وښیم زه تاسی ته ځای د هستوګنی د فاسقانو» یعنی ته په خپله هم دغه الواح په کلکه او احتیاط سره وساته چه چیری در څخه ونه لوېږی او خپل قوم هم په ښه شان سره وپوهوه چه دوی د دغو الواحو پر خورا (ډیرو) ښو هدایاتو باندی ډیر مضبوط او کلک عمل وکړی او داسی ښه شی له سره له خپله لاسه ونه باسی.

**تنبیه:** د ﴿ بِأَحْسَنِهَا ﴾ له لفظ څخه ئی یا خو پر دغی خبری تنبیه فرمایلی ده چه په هغو کښی ماسواء له (احسن) څخه بل هیڅ شی نه ؤ، یا خو هغه احکام چه پکښی ورکړی شوی دی ګرد (تول) ئی فی حد ذاته ښه دی مګر ځینی ئی له ځینو څخه احسن دی. مثلاً له ظالم ځنی انتقام او بدل اخیستل جائز او حسن دی لیکن صبر کول او ښښل ئی عزیمت او احسن دی. ګواکی بنی اسرائیل ئی د عزایمو او مندوباتو په اکتساب باندی مامور کړل چه په هغو کښی ډیره سعی او کوښښ وکړی او د پاک الله پوره امر منونکی شی او که نافرمانی وکړی نو دوی ته د نافرمانانو کورونه ورښوول کیږی یعنی په آخرت کښی دوزخ، او په دنیا کښی تباهی او رسوائی **«اعاذنا الله منهما»** ابن کثیر او بغوی او ځینو نورو د نافرمانانو له کورونو ځنی مصر یا شام مراد کړی دی چه د نافرمانانو فرعونیانو او عمالقه ؤ ملکونه وو نو په دغه تقدیر به دغه آیت د بنی اسرائیلو دپاره بشارت وی چه که په پوره دول (طریقه) سره فرمانبرداری وکړئ نو د نافرمانانو ملک به تاسی ته درکاوه کیږی، **والراجح هوالاول کمارجحه** «ابن کثیر»

---

سَأَصْرِفُ عَنْ آيَاتِيَ الَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَإِن يَرَوْا كُلَّ آيَةٍ لَّا يُؤْمِنُوا بِهَا وَإِن يَرَوْا سَبِيلَ الرُّشْدِ لَا يَتَّخِذُوهُ سَبِيلًا وَإِن يَرَوْا سَبِيلَ الْغَيِّ يَتَّخِذُوهُ سَبِيلًا ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَكَانُوا عَنْهَا غَافِلِينَ ﴿١٤٦﴾

---

ژر به واړوم (زه قبلولو د افاقی او انفسی) آیتونو خپلو څخه هغه کسان چه تکبر کوی په ځمکه کښی په ناحقه سره او که ووینی (دغه متکبران) هر قسم آیت «د قرآن یا د نبوت معجزی نو» نه راوړی ایمان پر هغو «عناداً» او که ووینی لاره د رشد (طریقه د هدایت خپل الله او جنت ته) نو نه نیسی دوی هغه لاره «او نه ځی پر هغه طریقه» او که ووینی دوی لاره د ګمراهی

نو نیسی دوی هغه لاره «او طریقه د تګ خپل او ځی پری» دغه «ګرځیدل له سمی صافی لاری په سبب د دی دی چه دوی نسبت د دروغو کړی ؤ آیتونو زموږ ته او وو دوی له هغو (آیتونو) څخه غافلان «بی خبره چه فکر به ئی پکښی نه کاوه».

**تفسیر:** یعنی هغه خلق چه د الله تعالیٰ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مقابل کښی ناحقه تکبر کوی او دوی ته نخوت او غرور اجازه نه ورکوی چه د الله جل جلاله احکام ومنی موږ به هم د دوی زړونه د خپلو آیتونو له لوری وګرځوو چه په آینده کښی له هغوی ځنی د ګټی توفیق ونه مومی د داسی کسانو کیفیت داسی وی چه دوی څومره آیتونه او دلائل او معجزی چه وګوری او وائی وری هیڅ تری نه متأثر کیږی. د هدایت لاره څومره چه ارته او صافه وی بیا هم دوی پر هغی نه ځی هو! د ګمراهی پر لاره او د خپلو نفسانی غوښتنو په متابعت په مندو روان وی کله چه د تکذیب له دوام دار عادت او له اوږده غفلت څخه زړه مسخ شی نو هلته انسان ته دغه حالت پیدا کیږی.

وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَلِقَآءِ الْاٰخِرَةِ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ ؕ هَلْ يُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴۷﴾

او هغه کسان چه نسبت د دروغو یی کړی دی آیتونو زموږ ته او ملاقات د آخرت ته خراب او باطل شول عملونه د دوی؛ نشی جزا ورکولی دوی ته مګر جزا د هغه عمل چه وو دوی چه عمل به «ئی» کاوه.

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ په احکامو باندی به د تللو توفیق نه مومی او هغه کارونه چه له خپله عقله ئی کوی هغه به د الله تعالیٰ په دربار کښی نه قبلیږی دوی څه چه کوی هم هغه به ګالی (برداشت کوی) او څه چه کری هم هغه به ریبی پاتی شوه د دوی بی اساسه نیکی، د هغو هر هغه بدل چه دوی ته رسیدونکی دی هغه به په هم دغی دنیا کښی دوی ته وروړسیږی.

وَاتَّخَذَ قَوْمُ مُوْسٰى مِنْ بَعْدِهٖ مِنْ حُلِيِّهِمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهٗ خُوَارٌ ؕ اَلَمْ يَرَوْا اَنَّهٗ لَا يُكَلِّمُهُمْ وَلَا يَهْدِيْهِمْ سَبِيْلًا ۘ اِتَّخَذُوْهُ وَكَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ﴿۱۴۸﴾

او ونيوه «جوړ كړ» قوم د موسىٰ وروسته «د تللو» د ده (ميقات ته) له زيوراتو (ګانو) خپلو خسى مجسم چه ده لره غږ ؤ لكه د خسى «جوړ ئى كړ له پاره د عبادت» آيا نه ليدل (نه پوهيدل) دوى چه بيشكه دغه «خسى» خبرى نه كوى له دوى سره او نه ښيى دوى ته هيڅ لاره ونيو دوى هغه «خسى په خدائى سره» او وو دوى ظالمان «پر خپلو ځانونو».

**تفسير:** دغه ګانى (زيورات) چه ويلى «ذوب» شوى وى او د خسى مجسمه ترى جوړه شوى وه په اصل كښى د فرعون د قوم يعنى د قبطيانو وى، چه له هغوى ځنى پاتى او د بنى اسرائيلو په لاسونو كښى لويدلى وى ـ لكه چه د «طٰهٰ» په سورت كښى راغلى دى ﴿ حُمِّلْنَآ أَوْزَارًا مِّن زِينَةِ ٱلْقَوْمِ ﴾

﴿ جَسَدًا لَّهُۥ خُوَارٌ ﴾ الآية ـ مجسم چه ده لره غږ ؤ لكه د خسى جوړ ئى كړ له پاره د عبادت آيا نه ليدل، نه پوهيدل دوى چه بيشكه دغه خسى خبرى نه كوى له دوى سره او نه ښيى دوى ته هيڅ لاره، ونيو دوى هغه په خدائى او وو دوى ظالمان) د «طٰهٰ» په سورت كښى به د دى خسى مفصله قصه راشى، دلته ئى د دوى پر حماقت او سفاهت باندى تنبيه وركړى ده چه هغوى يو له خپله ځانه جوړى شوى مجسمى ځنى، د خسى په غږ آوريدلو باندى مفتون شوى دى او هغه خسى خپل معبود ګڼى، حال دا چه په دغه بى معنى غږ كښى نه كوم كلام ؤ او نه څه خطاب، نه دينى او دنيوى هدايت او نه منفعت ترى حاصليده ـ داسى يو تش صورت خو يو شى د انسانيت درجى ته هم نشى رسولى، دا لا څه چه د هغه په وسيله انسانان د الله تعالىٰ جل وعلا د معرفت تر درجى پورى خپل ځانونه ورسوى. نو دغه څومره لوى ظلم او بى موقع كار دى چه د يوه معمولى ساكښ (ذى روح) مجسمى ته خداى وويل شى، خبره خو دا ده چه دغه قوم ته لا له پخوا د داسى بى موقعو خبرو كولو عادت پيدا شوى ؤ. لكه چه پخوا له دى نه د ﴿ اجْعَل لَّنَآ إِلَٰهًا كَمَا لَهُمْ ءَالِهَةٌ ﴾ غوښتنه ئى له موسىٰ عليه السلام څخه كړى وه.

وَلَمَّا سُقِطَ فِىٓ أَيْدِيهِمْ وَرَأَوْا۟ أَنَّهُمْ قَدْ ضَلُّوا۟ قَالُوا۟ لَئِن لَّمْ يَرْحَمْنَا رَبُّنَا وَيَغْفِرْ لَنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿١٤٩﴾

او كله چه پښيمانه شول (په عبادت د خسى باندى) او پوه شول چه بيشكه دوى په تحقيق ګمراه شوى دى نو وى ويل قسم دى خامخا، كه رحم ونه كړى پر موږ رب زموږ او ښښنه ونه كړى موږ ته «رب زموږ نو» خامخا به

شو مونږ هرومرو (خامخا) له زیانکارانو.

**تفسیر:** یعنی د خپلو بی عقلیو او کړو تللو لامله (له وجی) دوی داسی بی لاری او بی اصوله او بدشکله کار غوره کړی ؤ چه د موسٰی علیه السلام له تنبیه څخه وروسته کله چه د دوی د بطلان جوش سوړ شو او لږ څه عقل او هوښ ئی په ځای شو، نو دوی په خپله هم له خپل دغه حرکت څخه وشرمیدل او د ډیر افسوس او ندامت له سببه ئی خپلی ګوتی وچیچلی او د ډیری ویری او خوف لامله (له وجی) د دوی له لاسونو هغه موهومه باښه والوتله، او له ډیری وارخطائی او تاسف په داسی ویناؤ ئی خوله پرانیستله «که الله جل جلاله پر مونږ باندی رحم ونه فرمائی او د بښنی او توبی کوم صورت مونږ ته راونه ښیی، نو مونږ به یقیناً په ابدی خسران او دائمی هلاکت کښی ولویږو» (ځینو د ﴿ وَلَمَّا سُقِطَ فِىٓ أَيْدِيهِمْ ﴾ ترجمه داسی هم کړی ده «او کله چه وغورځولی شو خپګان او پښیمانی په لاسونو د دغو بنی اسرائیلو کښی یعنی په دی کار خپل ډیر پښیمان شول.»)

وَلَمَّا رَجَعَ مُوسَىٰٓ إِلَىٰ قَوْمِهِۦ غَضْبَٰنَ أَسِفًا قَالَ بِئْسَمَا خَلَفْتُمُونِى مِنۢ بَعْدِىٓ ۖ أَعَجِلْتُمْ أَمْرَ رَبِّكُمْ ۖ وَأَلْقَى ٱلْأَلْوَاحَ وَأَخَذَ بِرَأْسِ أَخِيهِ يَجُرُّهُۥٓ إِلَيْهِ ۚ قَالَ ٱبْنَ أُمَّ إِنَّ ٱلْقَوْمَ ٱسْتَضْعَفُونِى وَكَادُوا۟ يَقْتُلُونَنِى فَلَا تُشْمِتْ بِىَ ٱلْأَعْدَآءَ وَلَا تَجْعَلْنِى مَعَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٥٠﴾

او کله چه بیرته راغی موسٰی (د طور له غره) قوم خپل ته په دی حال کښی چه ډک ؤ له ډیر قهر او غصی افسوس کوونکی. وویل «موسٰی قوم خپل ته» بد خلافت چه خلافت کړی دی تاسی زما (دا خلافت دی) وروسته له ما، آیا تلوار وکړ تاسی (په دی شرک سره او پرینښود تاسی حکم) امر د رب خپل «نو تاسی داسی ولی وکړه» او وغورځولی «موسٰی هغه» تختی «د تورات له جهته د غضبه دپاره د حمایت د دین» او وئی نیوه سر د ورور خپل چه راښکود ئی هغه ځان خپل ته؛ نو ویل (هارون موسٰی ته ای) ځویه د مور زما! بیشکه چه «دغه» قوم ضعیف کړی وم زه او نږدی وو دوی چه وژلی ئی وم

زه نو مه خوشالوه په ما باندی دښمنان او مه ملګری کوه ما له قوم ظالمانو سره !

تفسیر: کله چه موسٰی علیه السلام له «طور» څخه بیرته راغی له غصی ډک ؤ ځکه چه الله تعالیٰ په همغه «طور» کښی موسٰی علیه السلام ته خبر ورکړی ؤ چه د «سامری» له لاسه ستا قوم ګمراه شو ـ د دی خبری له اوریدلو څخه موسٰی علیه السلام سخت خپه او متأسف او په قهر شو.

﴿ قَالَ بِئۡسَمَا خَلَفۡتُمُونِي مِنۢ بَعۡدِيٓۖ ﴾ وویل موسٰی بد خلافت چه خلافت کړی دی تاسی زما وروسته له ما دا خلافت دی ـ یا وویل موسٰی قوم خپل ته بد کار دی دغه عبادت د خسی چه کړی دی تاسی پس له تګه (تللو) زما د طور غره ته) دغه خطاب د خسی عبادت کوونکو ته ؤ. یعنی وروسته له ما څخه تاسی په ښه دول (طریقه) ځما نیابت وکړ؟ «بلکه ومو نه کړ» د هغی خبری په نسبت چه ما پر تاسی زیات تاکید کړی ؤ «یعنی د الله تعالیٰ توحید او تفرید» تاسی د هغه په ځای د خسی مجسمه ودروله او د هغه په نسبت مو داسی وویل. ﴿ هَٰذَآ إِلَٰهُكُمۡ وَإِلَٰهُ مُوسَىٰ ﴾ فی الحقیقت هم دغه ستاسی او د موسٰی معبود دی.) او ممکن دی چه دغه خطاب هارون علیه السلام ته هم وی چه تا زما د هغه نیابت حق چه ﴿ ٱخۡلُفۡنِي فِي قَوۡمِي ﴾ می درته ویلی ؤ او هغه می درسپارلی ؤ په ښه شان سره اداء نه کړ او د دوی مخه دی ونه نیوله ـ او په ټینګه سره دی د دغی فتنی مقابله ونه کړه، لکه چه د «طٰه» په سورت کښی په تفصیل سره راځی.

﴿ أَعَجِلۡتُمۡ أَمۡرَ رَبِّكُمۡۖ ﴾ آیا تلوار وکړ تاسی په شرک سره او پریښود تاسی امر، حکم د رب خپل نو دا مو ولی داسی وکړه؟) یعنی زه الله تعالیٰ ته ستاسی په غوښتنه د احکامو راوړلو له پاره تللی وم چه نیته ئی د الله تعالیٰ له خوا خلوینښت ورځی مقرری شوی وی تاسی د الله تعالیٰ د هغی مقرری شوی وعدی د پوره کیدلو او د ده د احکامو د راتللو انتظار مو هم ونه کړ، دومره ډیره زمانه خو لا نه وه تیره شوی چه تاسی وویریدئ او دومره ژر مو د الله تعالیٰ قهر او غضب وغوښت ﴿ أَفَطَالَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡعَهۡدُ أَمۡ أَرَدتُّمۡ أَن يَحِلَّ عَلَيۡكُمۡ غَضَبٞ مِّن رَّبِّكُمۡ فَأَخۡلَفۡتُم مَّوۡعِدِي ﴾ «١٦ جزء د طٰه «٨٦» آیت ٤ رکوع».

﴿ وَأَلۡقَى ٱلۡأَلۡوَاحَ ﴾ الآیة ـ او وغورځولی موسٰی هغه تختی د تورات له جهته د غضبه دپاره د حمایت د دین او وئی نیوه سر د ورور خپل چه راښکود ئی هغه ځان خپل ته؛) حضرت موسٰی علیه السلام د دی مشرکانه اوضاعو له لیدلو څخه د هارون علیه السلام په نرمی او تساهل شکمن او له حده زیات په قهر او متاسف او د دینی حمیت او غیرت په ځوش کښی دومره متأثر او بیخوده شو چه هارون علیه السلام ته ئی لاس ور واچاوه او د ایمانی حرارت له خورا (ډیر) ځوښه (جوشه) ئی د ده ږیره او د سر ویښتان ټینګ ونیول ـ معاذ الله د هارون علیه السلام د اهانت په نیت نه «بلکه د عتاب او ګیلی په طرز ؤ» ځکه چه هارون علیه السلام په خپله مستقل نبی او په عمر کښی دری کاله له موسٰی علیه السلام څخه مشر ؤ ـ بیا نو د یو اولواالعزم نبی الله

ځنی دا څرنګه ممکنه ده چه د بل یو نبی الله چه د ده مشر ورور هم ؤ او سره د هغه د یوی ذری په اندازه د ده د توهین اراده وکړی؟ نه د موسٰی علیه السلام له لوری دغه معامله په هغه وخت کښی شوی وه چه دی د خپل قوم له دغه بد کار څخه سخت په قهر ؤ او د بغض فی الله او غصی لامله (له وجی) بیخی بی واکه او بی اختیاره شوی ؤ او د حضرت هارون علیه السلام په نسبت ئی داسی یو خیال پیدا شوی ؤ چه ده د اسرائیلیانو د حال په اصلاح کښی خپل پوره کوښښ نه دی صرف کړی حال دا چه ده ته د هغوی د اصلاح په نسبت ډیره زیاته توصیه او تاکید هم شوی ؤ ـ بیشکه چه هارون علیه السلام نبی ؤ او په عمر کښی هم هغه له موسٰی علیه السلام ځنی مشر ؤ مګر په رتبه کښی موسٰی علیه السلام له ده څخه لوی او په مذهبی او شرعی امورو کښی هارون علیه السلام د ده تابع او د وزیر حیثیت ئی درلود (لرلو) نو په دغه موقع کښی له موسٰی علیه السلام له لوری دا سخته نیونه او شدیده پوښتنه د حضرت هارون علیه السلام د مظنون تقصیر په نسبت یو قسم فعلی ملامتیا وه چه په هغه سره قوم په ښه شان سره متنبه کړ شو چه د کلیم الله علیه السلام زړه د توحید له نشی ځنی په څه اندازه سرشار او د کفر او شرک له دسائسو څخه څومره زیات متنفر او بیزار دی چه په دغی معاملی کښی ډیر لږ تساهل او سکوت هم لوی جرم ګڼی او د هغه زغمل له سره نشی کولی تر دی که د یوه نبی په نسبت هم داسی وهم پیدا شی چه هغه د شرک په مقابل کښی خپل غږ نه جګوی. یا د تبلیغ په فرائضو کښی لږ څه قصور کوی نو د ده لوئی او عند الله وجاهت هم دی له هغی سختی پوښتنی څخه نشی خلاصولی په هر حال موسٰی علیه السلام په دغه حالت کښی شرعاً معذور ؤ، د دی قهر او غضب په څوښ (غصه) او شور ماشور په ضمن کښی هغه الواح «د تورات تختی» د دوی له لاسونو ولویدلی چه د الله تعالٰی له لوری دوی ته مرحمت شوی وی چه د هغو د عدم تحفظ له سببه تغلیظاً هغه په القاء سره تعبیر شوی دی ځکه چه ظاهراً ئی د ﴿ فَخُذۡهَا بِقُوَّةٖ ﴾ امتثال ونشوی کړی یا لکه چه د ځینو مفسرینو خیال دی د هارون علیه السلام په لوری د وراندی کیدلو په وخت کښی د خپلو لاسونو د خلاصولو له پاره ئی په ډیر تعجیل او تلوار سره هغه تختی په یوه لوری کیښودی. مګر څرنګه چه دغه دواړه معاملی چه د هارون علیه السلام یا د تختو په نسبت وشوی صورتاً ښی او غوره نه وی، اګر که موسٰی علیه السلام په خپل نیت معذور هم ؤ نو ځکه وروسته ئی ﴿ رَبِّ ٱغۡفِرۡ لِي ﴾ الآیة ـ وویل او له الله تعالٰی څخه ئی عفوه وغوښته والله سبحانه وتعالٰی اعلم.

﴿ قَالَ ٱبۡنَ أُمَّ ﴾ الآیة ـ نو وویل هارون ای ځویه د مور زما ! بیشکه چه دغه قوم ضعیف کړی وم زه او نژدی وو چه دوی وژلی وم زه نو مه خوشالوه په ما باندی دښمنان او مه ملګری کوه ما له قوم ظالمانو سره.) اګر که هارون علیه السلام د حضرت موسٰی علیه السلام سکه ورور دی، مګر د مور د نسبت له یادولو څخه مقصد د نرمی، شفقت او مهربانی په لوری د موسٰی علیه السلام اړول دی، دی آیت کښی د هارون علیه السلام د معذرت بیان دی. حاصل ئی داسی دی (ما سم له خپله مقدوره بنی اسرائیل ډیر ویوهول، لیکن دوی زما حقانی خبرو ته هیڅ غوږ

کينښود، او برسيره پر هغه زما د وژلو له پاره هم تيار شول اوس تاسي په دغی معاملی کښی هغوی پر ما مه خوشالوئ! او دوی ته داسی موقع مه ورکوئ! چه پر ما وخاندی او د قهر او عتاب په وخت کښی ما د ظالمانو په دله کښی مه شاملوئ!.

قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِي وَلِأَخِي وَأَدْخِلْنَا فِي رَحْمَتِكَ وَأَنتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ ﴿١٥١﴾

وويل «موسٰی» ای ربه زما ښښنه وکړه ماته (د دی عمل چه ومی کړ له خپل مشر ورور سره) او ورور زما ته «هم ښښنه وکړه که ئی تقصير کړی وی په منع کښی» او داخل کړه مونږ په رحمت خپل کښی «چه دنيوی عصمت او اخروی جنت دی» او هم دا ته ډير مهربان ئی له ټولو مهربانانو نه.

**تفسير:** يعنی د غضب په شدت کښی که له ما څنی کومه بی اعتدالی يا اجتهادی غلطی شوی وی، سره له دی چه زما نيت په هغه کښی ښه هم وی نو ته هغه راوبښه! او زما له وروره هارون څخه هم که د هغه د درجی او شان سره سم کوم قسم قصور د قوم په اصلاح کښی شوی وی، هغه هم ورويښه!.

إِنَّ الَّذِينَ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ سَيَنَالُهُمْ غَضَبٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَذِلَّةٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِينَ ﴿١٥٢﴾

بيشکه هغه کسان چه نيولی دی دوی خسی «په معبوديت» ژر به ورسيږی دوی ته غضب له ربه د دوی او ذلت «خواری» په دی ژوندون لږ خسيس کښی؛ او هم داسی «لکه سزا د عابدانو د خسی» سزا ورکوو مونږ بهتان تړونکو ته.

**تفسير:** دا همغه غضب دی چه ذکر ئی په اول جزء د «البقرة» په ٦١ آيت ٦ رکوع کښی تير شوی دی. يعنی د خسی عابدان دی د هغو خلقو له لوری ووژلی شی چه هغوی د خسی په عبادت کښی نه دی شامل شوی او د خسی د عبادت کوونکو په منع کښی يی برخه نه ده اخيستی. له دی نه معلومه شوه چه د مرتدانو سزا وژل دی او له ذلت څخه هغه خواری مراد ده چه د نفی بلد

او د جزیی په دول (طریقه) پر دوی تطبیقیږی او تر قیامته په مسکنت او سپکوالی محکوم دی.

وَالَّذِينَ عَمِلُوا السَّيِّئَاتِ ثُمَّ تَابُوا مِنْ بَعْدِهَا وَآمَنُوا إِنَّ رَبَّكَ مِنْ بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿١٥٣﴾

او هغه کسان چه کوی دوی ناکاره کارونه (صغیره یا کبیره گناه) بیا توبه وباسی پس له کولو د هغو «سیئاتو» او ایمان راوړی «تصدیق وکړی د تولو مؤمن به شیانو نو توبه ئی قبلیږی ځکه» بیشکه چه رب ستا پس له دی «توبی» خامخا ښه ښونکی (د خطیاتو) ډیر رحم والا دی (په انعام د اجر او ثواب سره).

**تفسیر:** یعنی پاک الله د ناکارو کارونو کوونکی ښښی تر دی که وروسته له کفر او شرکه په صدق سره کافر او مشرک توبه وباسی او په رښتیا سره ایمان راوړی، نو د ﴿لَغَفُورٌ رَحِيمٌ﴾ په دربار کښی ئی توبه قبلیږی، ځکه چه د الله تعالیٰ په لوی دربار کښی هر شی زیات دی. دغه ښنه او نور په آخرت پوری متعلق دی، گواکی اشاره ئی وفرمایله چه د خسی عبادت کوونکو ته چه هغه د وژلو سزا ورکړی شوی ده، هغه د دوی په حق کښی د دوی د توبی د قبلیدلو شرط گڼلی شوی ؤ. ﴿فَتُوبُوا إِلَىٰ بَارِئِكُمْ فَاقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ﴾ (اول جزء د البقرة «٥٤» آیت ٦ رکوع) اوس پر هغوی څه اخروی مؤاخذه نه ده پاتی. له دنیوی سزا څخه وروسته د اخروی حالت بیان په دغه ځای کښی هم داسی دی، لکه چه په ٦ جزء د المائدة په «٣٨» آیت «٦» رکوع کښی ﴿وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا﴾ الآیة - پسی وروسته ئی ﴿فَمَنْ تَابَ مِنْ بَعْدِ ظُلْمِهِ وَأَصْلَحَ فَإِنَّ اللَّهَ يَتُوبُ عَلَيْهِ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾ فرمایلی دی.

وَلَمَّا سَكَتَ عَنْ مُوسَى الْغَضَبُ أَخَذَ الْأَلْوَاحَ وَفِي نُسْخَتِهَا هُدًى وَرَحْمَةٌ لِلَّذِينَ هُمْ لِرَبِّهِمْ يَرْهَبُونَ ﴿١٥٤﴾ وَاخْتَارَ مُوسَىٰ قَوْمَهُ سَبْعِينَ رَجُلًا لِمِيقَاتِنَا فَلَمَّا أَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ قَالَ رَبِّ لَوْ شِئْتَ أَهْلَكْتَهُمْ مِنْ قَبْلُ وَإِيَّايَ أَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ السُّفَهَاءُ

مِنَّا ۖ إِنْ هِيَ إِلَّا فِتْنَتُكَ تُضِلُّ بِهَا مَنْ تَشَاءُ وَتَهْدِي مَنْ تَشَاءُ ۖ أَنْتَ وَلِيُّنَا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا ۖ وَأَنْتَ خَيْرُ الْغَافِرِينَ ﴿١٥٥﴾

او كله چه قرار «سوړ» شو له موسیٰ قهر نو وائی خیستی هغه تختی (د تورات)، او په لیک د دغو «تختو» کښی هدایت او رحمت ؤ له پاره د هغو کسانو چه دوی له رب خپل څخه ویریږی. او غوره کړل موسیٰ له قومه خپله اویا «تنه» سړی (چه د خسی له عابدانو څخه نه وو) دپاره د موعوده وخت زمونږ، نو کله چه ونیول هغوی زلزلی «په دنیا کښی د الله د رؤیت د سوال په سبب» نو وویل «موسیٰ د اتهام له ویری» ای ربه زما! که اراده فرمایلی وی تا «د هلاکولو د دوی نو» هلاک کړی به وو تا دوی پخوا له دی نه او زه به دی هم (هلاک کړی وی) آیا هلاکوی ته مونږ په هغه کار چه کړی دی بی عقلانو له مونږه؟، نه دی دا کار مگر ازمویښت دی ستا؛ گمراه کوی په دی سره یاالله! هر هغه څوک چه اراده ئی وکړی ته (د ضلالت) او هدایت کوی ته «یاالله» هر هغه چا ته چه اراده وکړی ته «د هدایت ئی» هم دا ته ئی ولی (واکدار) زمونږ نو ښښنه وکړه مونږ ته (د گناهونو زمونږ) او رحمت وکړه پر مونږ او هم دا ته ئی بهتر غوره د تولو ښښونکو.

**تفسیر:** هم دغه خبره راجح معلومیږی چه دغه میقات علاوه پر هغه میقات دی چه موسیٰ علیه السلام ته د تورات د ورکولو له پاره مقرر شوی ؤ. او هم د حاضرو آیتونو له ترتیبه ظاهراً مفهومیږی چه دغه واقعه د خسی د عبادت او سزا میندلو څخه وروسته پیښه شوی ده لیکن د سورت النساء د ﴿فَقَالُوٓا أَرِنَا اللَّهَ جَهْرَةً فَأَخَذَتْهُمُ الصَّٰعِقَةُ بِظُلْمِهِمْ ۚ ثُمَّ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنَٰتُ﴾ الآیة ـ آیت په ډیر ښکاره صورت سره دا راښیی چه د خسی عبادت وروسته له دی پیښ شوی دی، والله اعلم بالصواب د دی واقعی خلاصه په اول جزء د البقرة د سورت په ۵۵ آیت ٦ رکوع کښی پخوا تیره شوی ده بنی اسرائیلو حضرت موسیٰ علیه السلام ته ویلی وو چه مونږ ستا په خبرو هلته باور او یقین کولی شو چه د الله تعالیٰ خبری مونږ په خپلو غوږونو واورو، حضرت موسیٰ علیه السلام د دوی له منځه اویا تنه سړی چه گرد (تول) مشران وو، انتخاب کړل، او د طور د غره په لوری لاړل بالاخر دوی د الله تعالیٰ خبری په خپلو غوږونو سره واوریدلی، بیا ئی وویل که مونږ پاک الله بی حجابه په خپلو سترگو ونه وینو نو یقین مو ښه نه راځی د دی بی ادبی او گستاخی په مقابل کښی د ځمکی له لوری سخته زلزله وشوه او د آسمان له لوری د بریښنا او تالندی سخت غږ راپورته شو چه د هغی په اثر دوی گرد (تول) وریږیدل او تول ځای په ځای مره شول یا د مرو په شان یو حالت او وضعیت دوی ته پیښ شو، موسیٰ علیه السلام په ډیر عجز او نیاز د ځان او د خپلو ملگرو عجز او نیاز د بی

نیاز خالق په دربار کښې په همغه خاص اسلوب او امتیاز او مؤثر اصول سره وړاندی او یوه ښه دعاء یې وکړه چه حاصل ئې داسې ؤ «ای الله العٰلمینه! که ستا اراده شوی وی نو دوی به دی پخوا له دی نه هلاک کړی وی بلکه له دوی سره به دی زه هم هلاک کړی وم، چه هم دا زه د دوی د راتګ موجب دغه ځای ته شوی یم که دوی دی د دی بللو او ستا د دی پاک کلام له اوریدلو څخه پخوا هلاک کړی وی نو د چا به څه مجال او قدرت وی چه ستا د هغه مشیت مخه ئې نیولی وی ؟ کله چه تا داسې اراده ونه فرمایله بلکه ماته دی د هغوی د راوستلو او هغوی ته دی د خپل کلام د اوریدلو اجازه وکړه نو څرنګه ګمان کیدی شي چه تا مونږ دلته راوبللو او تش د ځینو بیوقوفانو او احمقانو په سزا زمونږ د تولو د هلاکولو اراده دی وفرمایله یقیناً دا «رجفه او صاعقه» هم ستا په واک او قبضه کښې ده ـ په داسې خطرناکو او مزلت الاقدامو مواقعو کښې یواځې ستا په اعانت او لاس نیونه سره مونږ بریالی (کامیاب) کیدی شو ـ او تش ستا د منبع الخیرات ذات څخه امید کیدی شي چه زمونږ له ګردو (تولو) تیرو تقصیراتو او بی اعتدالیو راتیر شې! او آینده په خپل فضل او مرحمت سره مونږ د داسې خطاګانو او اغلاطو مورد ونه ګرځوی! د حضرت موسٰی علیه السلام د دی دعاء په اثر هغه ګرد (تول) سری وبښل شول او پاک الله هغوی ته نوی ژوند ور مرحمت کړ کما قال الله جل وعلیٰ ﴿ ثُمَّ بَعَثْنٰكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَوْتِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴾

---

وَاكْتُبْ لَنَا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ اِنَّا
هُدْنَآ اِلَيْكَ ۗ قَالَ عَذَابِيْٓ اُصِيْبُ بِهٖ مَنْ اَشَآءُ ۚ وَرَحْمَتِيْ
وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ ۗ فَسَاَكْتُبُهَا لِلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ وَيُؤْتُوْنَ
الزَّكٰوةَ وَالَّذِيْنَ هُمْ بِاٰيٰتِنَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۵۶﴾

---

او ولیکه (مقرره کړه) مونږ ته په ژوندون لږ خسیس کښې نیکی «ښه معیشت او توفیق د طاعت» او په آخرت کښې «هم نیکی جنت» بیشکه مونږ راجع (او توبه ګار) شوی یو تاته نو وفرمایل (الله چه) عذاب زما وبه رسوم دا (عذاب) هر هغه چاته چه اراده وکړم زه «د رسونی ئی»؛ او رحمت زما شامل دی هر شي ته (په دنیا کښې)؛ نو ژر به ولیکم «ور به کړم په آخرت کښې» دا (رحمت) هغو کسانو ته چه ځانونه ساتی له کفره او معاصي او ورکوی دوی زکوٰة او هغه کسان چه دوی به آیتونو زمونږ ایمان لری «او یقین پری کوی».

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب لیکی چه ښائی حضرت موسٰی علیه السلام د خپل امت په حق کښی د دنیا او آخرت ښیگڼی (فایدی) چه غوښتل یی مراد به ئی داسی وی چه «زما امت دی په گردو (تولو) امتونو په دنیا او آخرت کښی مقدم او فایق وی.» جواباً الله تعالیٰ وفرمایل چه زما عذاب او رحمت د هیڅ یوی فرقی له پاره مخصوص نه دی. نو عذاب می په هغه چا دی چه زه ئی اراده وفرمایم، او عام رحمت می گردو (تولو) مخلوقاتو لره شامل دی. لیکن هغه خاص رحمت چه ته ئی غواړی «چه هغه قبول د توبی یا توفیق د طاعت یا رزق حلال یا مقال دی په دنیا کښی او رضوان او مغفرت او لقاء او جنت دی په عقبا کښی » د هغو کسانو په برخه لیکلی شوی دی چه له الله تعالیٰ څخه ویریږی او له خپلو اموالو څخنی زکوٰة اداء کوی یا د نفس په تزکیه کښی مشغول او لگیا وی او د الله تعالیٰ پر گردو (تولو) احکامو او خبرو د زړه له کومی باور لری یعنی دا آخری امت پر گردو (تولو) کتابونو ایمان راوړی. د حضرت موسٰی علیه السلام له امت څخنی هغه کسان چه په آخری کتاب باندی ایمان راوړی نو دوی ته همغه نعمت ور په برخه کیږی او د حضرت موسٰی علیه السلام د دعاء مورد گرځی.

اَلَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ الرَّسُوْلَ النَّبِيَّ الْاُمِّيَّ الَّذِيْ يَجِدُوْنَهٗ مَكْتُوْبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرٰىةِ وَالْاِنْجِيْلِ يَاْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهٰىهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبٰٓئِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ اِصْرَهُمْ وَالْاَغْلٰلَ الَّتِيْ كَانَتْ عَلَيْهِمْ ؕ فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِهٖ وَعَزَّرُوْهُ وَنَصَرُوْهُ وَاتَّبَعُوا النُّوْرَ الَّذِيْٓ اُنْزِلَ مَعَهٗٓ ۙ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۱۵۷﴾

(دا متقیان مؤمنان چه مقرر دی دوی ته رحمت) هغه کسان دی چه متابعت کوی دوی د (دین د) هغه رسول چه نبی امی دی هغه رسول چه مومی دوی «نوم او صفت د» ده لیکلی شوی په نزد د دوی په تورات او (په) انجیل کښی (هغه رسول چه حکم) امر کوی دوی ته په معروف «نیکی» سره او منع کوی دوی له منکر «بدی» څخه او حلالوی دوی ته گرد (تول) طیبات (پاک

شیونه چه حرام کړی شوی وو پر دوی باندی) او حراموی پر دوی باندی خبیث (پلیت) شیان او لری کوی له دوی څخه درانه بارونه د دوی او قیدونه د سختیو هغه چه وو پر دوی پس هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی په دغه «محمد» او عزت (تعظیم رفاقت) کوی د دغه (محمد) او مرسته (مدد) کوی له دغه «محمد» سره او متابعت کوی د هغه نور «رنا» چه نازله کړی شوی ده سره له (متابعته د) دغه «محمد» نو دغه «ستایلی شوی کسان» هم دوی دی په مراد رسیدلی.

---

**تفسیر:** (یعنی هغه څوک چه زه دغه رحمت ورته مقرروم له هر قوم او تبر او ملت او مذهب څخه چه وی هغه خاص هغه کسان دی چه پیروی کوی دوی د هغه چا چه موصوف وی په دغو لسو صفاتو سره چه محمد صلی الله علیه وسلم دی).

**(۱):** دا چه هغه رسول او لیږلی زما دی. رسول ئی وباله په نسبت د ځان خپل.

**(۲):** دا چه هغه نبی او پیغمبر دی. نبی ئی وباله په نسبت د خلقو.

**(۳):** دا چه هغه رسول امی یعنی نالوستونکی او نالیکونکی دی او دا ئی معجزه او عین الکمال دی چه بی له لوستلو او لیکلو لوی عالم دی.

امی یا خو د «ام ـ مور» په لوری منسوب دی، همغسی چه وړوکی د مور له ګیډی ځنی پیدا کیږی او د هیچا شاګرد نه وی، نبی کریم علیه افضل الصلواة والتسلیم هم په خپل ګرد (تول) عمر کښی له هیچا ځنی هیڅ شی نه دی زده کړی او نه له چا سره شاګرد شوی دی. سره له هغه کمال دا دی د هغو علومو او معارفو او حقائقو او اسرارو افاضه چه ده فرمایلی دی د هیڅ یوه مخلوق له قوت او حوصلی څخه نه ده پوره چه د هغه عشر عشیر وراندی کړی ـ د «نبی امی» لقب له دی حیثیته زمونږ د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم له پاره د سلهاؤ افتخارونو او ویاړونو پنګه ده. یا د امی نسبت د «ام القریٰ» مکی معظمی په لوری دی. چه د ده مبارک شریف مولد ؤ!.

**(٤):** دا هغه رسول دی چه مومی دا مؤمنان د بنی اسرائیلو ـ نوم او صفت د ده لیکلی شوی هم په تورات او هم په انجیل کښی یعنی د محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم د رسالت بشارتونه، نعتونه او صفتونه په سابقه سماوی کتابونو کښی مذکور دی تر دی چه له هغه وخته تر نن ورځی پوری چه «۱۳۷٦» ق کاله زمونږ د پاک پیغمبر صلی الله علیه وسلم له بعثته تیر شوی دی او خورا (دیر) زیات تغیرات، تزئیدات او تنقیصات هم په هغو کتابونو کښی شوی دی خو بیا هم په اوسنیو انجیلو کښی دیر بشارتونه او اشارات موندل کیږی چه هغه د هری زمانی علماؤ د کتابونو په حواله راښوولی دی ولله الحمد علیٰ ذلک.

**(٥):** هغه رسول صلی الله علیه وسلم چه امر «حکم» کوی دوی ته په معروف او نیکی سره چه هغه توحید او نور فضائل دی.

**(٦):** هغه رسول صلی الله علیه وسلم چه منع کوی دوی له منکر او بدی څخه چه هغه شرک او نور رذائل دی.
**(٧):** هغه رسول صلی الله علیه وسلم چه حلالوی دوی ته ګرد (تول) طیبات او پاکیزه شیان چه حرام کړی شوی وو پر دوی باندی لکه وازده چه حرامه وه پر یهودانو، او لکه بحیره او سائبه او وصیله چه حرام کړی ؤ پر خپل ځانو نورو جاهلانو.
**(٨):** هغه رسول صلی الله علیه وسلم چه حراموی پر دوی خبیث پلیت شیان لکه خنزیر او مرداره او بهیدونکی وینه.
**(٩):** هغه رسول صلی الله علیه وسلم چه ږدی یعنی لری کوی له دوی نه درانه بارونه د دوی، چه قتل ؤ د خپل ځان یا له وطن څخه جلا والی (جدا والی) ؤ په قبول د توبی کښی او پریکول د هر هغه اندام ؤ چه ګناه تری صادریده او پریکول د پلیت ځای ؤ له جامی څخه، او داسی ډیر نور سخت کارونه.
**(١٠):** هغه رسول صلی الله علیه وسلم چه لری کوی قیدونه چه وو پر دوی او هغه سخت طوقونه چه پراته وو په غاړو د دوی کښی له وخته د موسٰی علیه السلام څخه تر اوسه پوری لکه لزوم د قصاص بی له صحته د عفوی او بی دیته په قتل د عمد او د سهوی دواړو کښی او سوځول د غنائمو او داسی نور سخت احکام یعنی پر یهودانو هغه سخت حکمونه چه نافذ وو او د دوی د خوړو په شیانو کښی د دوی د شرارتونو له وجی هغه مضیقه او تنګی چه وه، هغه ګرد (تول) په دغه دین کښی پورته یا آسانه شوی دی ﴿ فَبِظُلۡمٖ مِّنَ ٱلَّذِينَ هَادُواْ حَرَّمۡنَا عَلَيۡهِمۡ طَيِّبَٰتٍ أُحِلَّتۡ لَهُمۡ ﴾ (٦ جزء د النساء «١٦٠» آیت (٢٢) رکوع) او هغه ناپاک شیان لکه لحم الخنزیر، یا ګنده خبری مثلاً رشوت، سود او سوائی او نور دوی په خپلو ځانونو حلال کړی وو، چه د هغو حرمت دغه رسول الله محمد مصطفٰی صلی الله علیه وسلم راښکاره کړ. الغرض له دوی ځنی ډیر درانه بارونه لری او سپک کړی شوی دی او ډیر قیود تری پورته کړی شوی دی، لکه چه په حدیث کښی فرمایلی شوی دی «بعثت بالحنیفیة السمحة».
﴿ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِهِۦ ﴾ هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی په دغه محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم او عزت تعظیم رفاقت کوی د دغه محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم او مرسته (مدد) کوی له ده سره او متابعت کوی د هغه نور «رنا» چه نازله کړی شوی ده سره له متابعته د ده نو دغه ستایلی شوی کسان هم دوی دی په مراد رسیدلی بریالی)، له «نور» ځنی «وحی» مراد ده اعم له دی چه متلو وی «چه په لمانځه کښی لوستله کیږی» یا غیر متلو «چه په لمانځه کښی نه لوستله کیږی».

قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيۡكُمۡ جَمِيعًا ٱلَّذِي لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ يُحۡيِۦ

وَيُمِيتُ ۖ فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ الَّذِي يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَكَلِمَاتِهِ وَاتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٥٨﴾

ووايه «اى محمده ! چه» اى خلقو بيشكه زه رسول د الله يم تاسى تولو ته (نه بعضو ته لكه نور انبياء) هغه الله چه «خاص» ده لره دى ملك «پاچاهى» د آسمانونو او د ځمكى، نشته هيڅ لايق د عبادت «په حقه سره» مگر هم دى دى چه ژوندى كول كوى او مره كول كوى نو ايمان راوړئ «يقين وكړئ» پر الله «چه واحد او لا شريک دى» او په رسول د دغه (الله) چه نبى امى (نالوستونكى ناليكونكى دى) هغه رسول چه ايمان لرى په الله او په گردو (تولو) خبرو د الله او متابعت وكړئ د ده دپاره د دى چه تاسى لاره وموموئ.

**تفسير:** يعنى ستا بعثت د دنيا گردو (تولو) خلقو ته عام دى، د عربو په اميونو يا يهودو او نصارىٰ ؤ پورى نه دى محدود، همغسى چه پاک الله مطلق شهنشاه دى ته هم د هغه مطلق رسول ئى اوس د هدايت او كاميابى صورت پرته (علاوه) له دى نه په بل شى كښى نشته چه د هغه دير جامع او عالم نيوونكى شريعت متابعت او پيروى وكرى شى چه تاسى ته هغه راوړى دى ـ هم دغه رسول الله صلى الله عليه وسلم دى چه ايمان پرى راوړل په گردو (تولو) انبياؤ او مرسلينو عليهم السلام او تمامو سماوى كتابونو باندى د ايمان راوړلو سره مرادف دى.

وَمِنْ قَوْمِ مُوسَىٰ أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِالْحَقِّ وَبِهِ يَعْدِلُونَ ﴿١٥٩﴾

او ځينى له قومه د موسىٰ نه يو امت «تولى» دى چه لاره ښيى (خلقو ته) په حقه او په دى حق انصاف كوى «په منځ د خلقو كښى لكه چه دوى په خپله هم پرى عمل كوى».

**تفسير:** اگر كه اكثره يهودان د سركښى او بى انصافى لارى غوره كوى خو سره له هغه ځينى داسى نيكمرغى ارواحى هم په دوى كښى شته چه نورو ته د الله جل جلاله په لورى او د حقانيت په طرف دعوت وركوى او دوى هم بالذات د حق او انصاف په لاره تگ كوى لكه عبد الله بن سلام او نور.

وَقَطَّعْنَاهُمُ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ أَسْبَاطًا أُمَمًا ۚ

او بیل بیل کړل مونږ دغه (بنی اسرائیل) دولس قبیلی تولی تولی؛

**تفسیر:** یعنی د اصلاح او انتظام له پاره په دولس قبیلو سره چه د دولسو پلرونو اولادی وی ویشل شوی دی بیا په هره قبیله کښی یو یو مشر او نقیب مقرر کړی شوی دی چه د دوی پر احوالو کتنه وکړی او تل د دوی د اصلاح خیال ولری ﴿ وَبَعَثۡنَا مِنۡهُمُ اثۡنَیۡ عَشَرَ نَقِیۡبًا ﴾

وَاَوۡحَیۡنَاۤ اِلٰی مُوۡسٰۤی اِذِ اسۡتَسۡقٰىهُ قَوۡمُهٗۤ اَنِ اضۡرِبۡ بِّعَصَاكَ الۡحَجَرَ ۚ
فَانۡۢبَجَسَتۡ مِنۡهُ اثۡنَتَا عَشۡرَةَ عَیۡنًا ؕ قَدۡ عَلِمَ كُلُّ اُنَاسٍ
مَّشۡرَبَهُمۡ ؕ وَظَلَّلۡنَا عَلَیۡهِمُ الۡغَمَامَ وَاَنۡزَلۡنَا عَلَیۡهِمُ
الۡمَنَّ وَالسَّلۡوٰی ؕ كُلُوۡا مِنۡ طَیِّبٰتِ مَا رَزَقۡنٰكُمۡ ؕ وَ
مَا ظَلَمُوۡنَا وَلٰكِنۡ كَانُوۡۤا اَنۡفُسَهُمۡ یَظۡلِمُوۡنَ ﴿۱۶۰﴾ وَاِذۡ قِیۡلَ
لَهُمُ اسۡكُنُوۡا هٰذِهِ الۡقَرۡیَةَ وَكُلُوۡا مِنۡهَا حَیۡثُ
شِئۡتُمۡ وَقُوۡلُوۡا حِطَّةٌ وَّادۡخُلُوا الۡبَابَ سُجَّدًا نَّغۡفِرۡ
لَكُمۡ خَطِیۡٓـٰٔتِكُمۡ ؕ سَنَزِیۡدُ الۡمُحۡسِنِیۡنَ ﴿۱۶۱﴾

او وحی («حکم») مو ولیږه موسیٰ ته کله چه اوبه وغوښتی تری قوم د ده «په میدان د تیه کښی» چه ووهه په همسا خپله تیږه (کټه) نو «چه موسیٰ په همسا ووهله تیږه (کټه)» راوخوټیدلی له هغی تیږی (کټی) شخه دولس چینی (د قبیلو په شمار) په تحقیق وپیژانده هری قبیلی «له دوی شخه» ځای (چینه) د اوبو چښلو خپلو؛ او سیوری کړی ؤ مونږ پر دوی وریځ «په میدان د تیه کښی» او نازل (راښکته) کړی وو مونږ پر دوی من «ترنجبین» او سلویٰ (مرغان؛ نو وویل مونږ دوی ته چه) وخورئ تاسی له پاکیزه او حلالو لذیذو هغو شیانو چه درکړی دی مونږ تاسی ته؛ او نه ؤ کړی ظلم دوی پر مونږ «په دغه کفران او عصیان سره» ولیکن وو دوی چه په خپلو ځانونو به ئی ظلم کاوه او (یاد کړه) هغه وخت چه وویل شو دوی ته اوسئ تاسی په

دغی قریې «د اریحا یا ایلیا یا بیت المقدس» کښې او خورئ تاسی له (میوو د) دی ځخه له هر ځای «او له هر شی» ځخه مو چه خوښه وی او ووایئ راوبښه «گناهونه زمونږ» او ننوځئ تاسی دروازی «د دی قریې ـ ښار» ته سجده کوونکی نو وبه ښو مونږ تاسی ته گناهونه ستاسی؛ ژر به زیات کړو محسنانو (نیکانو) ته «اجر».

**تفسیر:** یعنی اوس خو یو ښار فتح شو، وروسته به گرد (تول) ملک هم په لاس درشی کذا فی الموضح ـ یا ئی دغه مطلب دی چه خطاگانی به مو وبښی، د نیکانو اجر او ثواب به ورته زیاتوی کذا فی عامة الکتب.

فَبَدَّلَ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْهُمْ قَوْلًا غَيْرَ الَّذِي قِيلَ لَهُمْ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِجْزًا مِّنَ السَّمَاءِ بِمَا كَانُوا يَظْلِمُونَ ﴿١٦٢﴾

پس بدله کړه هغو کسانو چه ظلم ئی کړی ؤ «په خپلو ځانونو» له دوی ځخه خبره غیر له هغی خبری چه ویلی شوی وه دوی ته نو ولیږه مونږ پر دوی عذاب له آسمانه په سبب د هغه چه وو دوی چه ظلمونه به ئی کول.

**تفسیر:** دغه د «تیه» د میدان واقعات دی، چه ذکر ئی په اول جزء د البقرة ۵۷ تر ۶۱ رکوع کښی تیر شوی دی، د هغه ځای په تفاسیرو کښی ئی ولولئ!.

وَسْئَلْهُمْ عَنِ الْقَرْيَةِ الَّتِي كَانَتْ حَاضِرَةَ الْبَحْرِ إِذْ يَعْدُونَ فِي السَّبْتِ إِذْ تَأْتِيهِمْ حِيتَانُهُمْ يَوْمَ سَبْتِهِمْ شُرَّعًا وَيَوْمَ لَا يَسْبِتُونَ لَا تَأْتِيهِمْ كَذَٰلِكَ نَبْلُوهُم بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ ﴿١٦٣﴾

او پوښتنه وکړه (ای محمده! له یهودو) له «حاله د» قریې «ښار» ځخه هغه چه وو په غاړه د بحر کښی کله چه له حده تیریدل دوی له «فرمانه په ښکار د ماهیانو» په ورځی د خالی کښی کله چه راتله دوی ته ماهیان د دوی په ورځ د خالی د دوی کښی ښکاره (په سر د اوبو) او په هغه ورځ کښی چه

داخل به نه وو په خالي کښې نو نه به راتله (ماهيان) دوی ته هم داسې (لکه چه په خالي کښې راتلل يا په مثل د دغه امتحان) آزمويو مونږ دوی په سبب د دې چه وو دوی چه فسق به ئې کاوه «د الله له اطاعت څخه به وتل».

تفسير: يعني د خپلې زمانې له يهودانو څخنې د تنبيه او توبيخ په دول (طريقه) د هغه کلي د اوسيدونکو يهودانو د هغې قصې پوښتنه وکړئ! چه د داؤد عليه السلام په زمانه کښې پيښه شوې وه، د اکثرو مفسرينو په نزد له دغې قريې څخنې د «ايله» ښار مراد دی چه د قلزم د درياب پر غاړه کښې د مدين او د طور په منځ کښې واقع وه ـ د دغه ځای اوسيدونکو د سيند د نژديوالي له امله (وجې) د کبانو (ماهيانو) د ښکار عادت درلود (لرلو).
حق تعالىٰ پر يهودانو د خالي «شنبې» د ورځې ښکار کول حرام ګرځولي وو د (ايله) د ښار اوسيدونکي د احکامو په عدول او نافرمانۍ عادي «روږدي» وو نو د الله تعالىٰ له لورې د دوی سخته ازموينه شروع شوه، چه د خالي په ورځ کښې داسې ډير زيات کبان «ماهيان» موجود وو، چه د سيند د پاسه سطح باندې به ګرځيدل او په نورو ورځو کښې به غائب وو، د دغو خلقو له لاسونو څخه د صبر زمام خوشې شو، او د الله جل جلاله د صريح حکم په خلاف ئې په حيله او بهانه کولو شروع وکړه ـ د سيند په غاړه کښې يې دندونه جوړ کړل، کله چه د خالي په ورځ کبان په دغو جوړ شوو ډندونو کښې ننوتل نو هغوی به د دوی د وتلو لارې بندولې او په بله ورځ يعني يکشنبې کښې به ئې نيول چه د خالي د ورځې ښکار پرې صادق نشي، ګواکې دوی په دغه حرکت سره معاذ الله تعالىٰ تيرايسته بالاخر ئې په هم دغې دنيا کښې د دغه مخالفت سزاوي ومونده، چه مسخ شول او خورا (ډير) سپک بيزوګان وګرځيدل. له دې نه ښکاره شوه چه پلمې (بهانې) جوړول حيله او مکارې د الله تعالىٰ په دربار کښې له سره نه چليږي.

وَإِذْ قَالَتْ أُمَّةٌ مِّنْهُمْ لِمَ تَعِظُونَ قَوْمًا ۙ اللَّهُ مُهْلِكُهُمْ أَوْ مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا ۖ قَالُوا مَعْذِرَةً إِلَىٰ رَبِّكُمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿١٦٤﴾

او (پوښتنه وکړه ای محمده! له يهودانو) کله چه وويل يوې فرقې له دوی «چه نه به ئې په خپله ښکار کاوه او نه به ئې نور منع کول مانعينو ته» ولې نصيحت کوئ تاسې هغه قوم ته چه الله هلاک کوونکې د دوی دی «په دنيا کښې » يا عذاب کوونکې د دوی دی په عذاب سخت «د اور سره په عقبا کښې په سبب د نافرمانۍ د دوی» وويل دوی «چه وعظ کوو مونږ» دپاره د عذر پيدا کولو «خپل» رب ستاسې ته او له پاره د دې چه ښايي دوی وويريږي «له عذابه».

**تفسير:** معلوميږي کله چه دوی د الله تعالیٰ د حکم په مخالفت په پلمو (منصوبو) جوړولو او حیلو شروع وکړه، نود ښار اوسیدونکی پر څو قسمونو منقسم شول لکه چه عموماً په داسی حالاتو کښې هم داسی کیږی.

(۱) ـ هغه خلق چه د دغی پلمی (منصوبی) په سیوری کښې ئی د الٰهی حکم صریح مخالفت کاوه.

(۲) ـ هغه نصیحت کوونکی چه تر آخره پوری په پوهولو او امر بالمعروف مشغول وو.

(۳) ـ هغه کسان چه لږ او ډیر نصائح یی کول، خو څو ورځی وروسته مایوس او د هغوی له سرکښی څخنی ستړی شول او په خپل سر ئی پریښودل.

(٤) ـ هغه کسان وو چه نه په دغه بد عمل کښې شریک شول او نه ئی د هغه په منع کولو کښې خپله ژبه خوځوله او بیخی ځان له جلا (جدا) او چپ پاتی شول ـ دغو مؤخرالذکرو ډلو به هغو سترو ستومانه شوو تل نصیحت کوونکو ته داسی ویل «ولی تاسی خپل سر خوروئ؟ او ماغزه مو په دردوئ؟ چه په دوی کښې د حق د قبلولو امید او توقع نشته». د دوی په نسبت له دوو خبرو څخنی یوه خبره معلومیږی چه هرومرو (خامخا) راتلونکی ده، یا به الله تعالیٰ دوی بیخی تباه او هلاک کړی، یا به ئی په کوم ډیر سخت عذاب کښې اخته کړی، ځکه چه دغه خلق اوس هیڅ یوه نصیحت ته غوږ نه ږدی.

﴿ قَالُوا۟ مَعۡذِرَةً ﴾ الآیة ـ وویل دوی چه وعظ کوو مونږ دپاره د خپل عذر پیدا کولو رب ستاسی ته او له پاره د دی چه ښایی وویریږی دوی له عذابه د الله تعالیٰ او ځان وساتی له ګناه څخه) یعنی ښائی له پوهولو سره لږ څه وویریږی، او له خپلو بدو حرکاتو څخنی ستانه (واپس) شی، که نه مونږ به لږ تر لږه د الله تعالیٰ په حضور کښې دومره معذرت وکړی شو، چه یا الله! مونږ خو تر آخره پوری دوی ته په پند ورکولو او پوهولو کښې څه قصور نه دی کړی (او د امر بالمعروف او نهي عن المنکر واجب مو اداء کړی دی) څرنګه چه دوی زمونږ خبره نه ده منلی، نو پر مونږ ئی څه الزام دی؟ ګواکی ړومبنی ناصحان خو بیخی مایوس نه وو ـ کله چه مایوس شول هم پر عزیمت یی عمل وکړ چه سره له مایوسی یی هم د دوی تعاقب پری نښود.

---

فَلَمَّا نَسُوا۟ مَا ذُكِّرُوا۟ بِهِۦٓ أَنجَيۡنَا ٱلَّذِينَ يَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلسُّوٓءِ وَأَخَذۡنَا ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ بِعَذَابِۭ بَـِٔيسِۭ بِمَا كَانُوا۟ يَفۡسُقُونَ ﴿١٦٥﴾

---

نو کله چه پریښود دوی (لکه چه ئی هیر کړی وی) هغه «نصیحت» چه پند ورکړی شوی ؤ دوی ته په هغه سره «او منع نشول د ښکار څخه په خالی کښې نو» نجات ورکړ مونږ هغو کسانو ته چه منع کول دوی (دا نور) له

بدی «چه ښکار ؤ په خالي کښې » او ومو نیول هغه کسان چه ظلم ئې کړی ؤ «په کولو د ښکار او له کولو د نهی» په عذاب سخت سره په سبب د هغه چه وو دوی چه گناهونه به ئې کول.

**تفسیر:** یعنی کله چه دغو نالائقانو د گردو (تولو) نصیحت کونکو پندونه داسی هیر کړل ـ لکه چه له سره ئې نه وو آوریدلی، نو مونږ ناصحان وژغورل (وساتل) او ظالمان مو په سخت عذاب کښې گرفتار کړل ﴿ اَنۡجَيۡنَا الَّذِيۡنَ يَنۡهَوۡنَ عَنِ السُّوۡٓءِ ﴾ د الفاظو عموم دلالت کوی چه هغو کسانو ته چه له نصیحت څخنی ستړی شوی وو او ﴿ لِمَ تَعِظُوۡنَ قَوۡمًا ﴾ الآیة ـ به ئې ویل او هغو کسانو ته چه تر آخره پوری ئې د وعظ او نصیحت سلسله جاری ساتله هغو دواړو ته نجات ور په برخه شو او یوازی ظالمان ونیول شول. هم دغه له عکرمه رضی الله تعالیٰ عنه څخنی منقول دی. او ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه د ده پر فهم او پوهه باندی تحسین او آفرین ویلی دی. باقی هغه کسان چه له اوله تر آخره پوری ساکت پاتی وو ـ الله تعالیٰ هم د دوی له ذکره سکوت وفرمایه. «ابن کثیر» څه ښه لیکلی دی **(فنص علیٰ نجاة الناهین وهلاک الظالمین وسکت عن الساکتین لان الجزاء من جنس العمل فهم لا یستحقون مدحاً فیمدحوا ولا ارتکبوا عظیما فیذموا** (ابن کثیر) **ورجح بعد ذلک قول عکرمة والله اعلم**

(نو تصریح وفرمایله الله تعالیٰ په نجات د نصیحت کوونکو له عذابه ـ او په هلاک او عذابیدلو د ظالمانو او سکوت ئې وفرمایه له حاله د هغو کسانو چه دوی سکوت کړی وو له وعظ او منع کولو څخه ځکه چه جزا د هری گناه موافق او مناسب د هغې گناه سره وی ـ نو دوی نه مستحق د مدحی دی او نه دوی په خپله په گناه کښې شامل شوی دی چه د دوی مذمت بیان شی. اوس الله تعالیٰ د دوی د عذاب خبر راکوی؛)

فَلَمَّا عَتَوۡا عَنۡ مَّا نُهُوۡا عَنۡهُ قُلۡنَا لَهُمۡ كُوۡنُوۡا قِرَدَةً خٰسِئِيۡنَ ﴿۱۶۶﴾

نو کله چه سرکشي وکړه دوی له «پریښودلو د» هغه شي څخه چه منع شوی وو دوی له هغه شي څخه (چه ښکار د ماهي ؤ په خالي کښې نو) وویل مونږ دوی ته چه شئ بیزوگان شړلی رټلی سپک کړی شوی.

**تفسیر:** ښائی پخوا له دی نه به څه نور عذاب راغلی وی، کله چه بیخی له حده تیر شول، نو گرد (تول) ذلیل شادوگان «بیزوگان» وگرځول شول ـ یا دی ﴿ فَلَمَّا عَتَوۡا ﴾ الآیة ـ د تیر آیت ﴿ فَلَمَّا نَسُوۡا مَا ذُكِّرُوۡا بِهٖۤ ﴾ الآیة ـ تفسیر وگرځول شی ـ یعنی هغه ﴿ بِعَذَابٍۭ بَـئِيۡسٍ ﴾ هم دغه له دوی څخنی د بیزوگانو جوړول وو ـ حضرت شاه صاحب لیکی چه «منع کوونکو له ښکار کوونکو سره ناسته ولاړه او ملاقات پریښود او په منځ کښې ئې دیوال وواهه. یوه ورځ گهیځ (سحر

وختی) چه خپل سرونه ئی له دیواله اوچت کړل وئی لیدل چه په هر کور کښی بیزوګانی دی، دغو بیزوګانو خپل او پردی تول پیژاندل او د خپلوانو په پښو کښی لویدل او خپل تاثر به ئی ښکاراوه او ژړل به ئی، آخر په ډیر بد صورت سره دری ورځی وروسته مړه شول.»

وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكَ لَيَبْعَثَنَّ عَلَيْهِمْ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَن يَسُومُهُمْ سُوءَ الْعَذَابِ ۗ

او (یاد کړه) هغه وخت چه خبر ورکړی ۇ رب ستا «د دی خبری» قسم دی خامخا مسلط به کړم هرومرو (خامخا) په دغو «یهودانو» تر ورځی د قیامت پوری هغه څوک چه رسوی به دوی ته سخت عذاب (لکه وژل شړل جزیی پری مقررول)؛

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ له طرفه صریح اعلان شوی ۇ چه که یهود د تورات پر احکامو خپل عمل پریږدی، نو حق تعالیٰ تر قرب قیامت پوری وقتاً فوقتاً پر دوی باندی داسی خلق مسلط کوی چه دوی به په بدو عذابونو مبتلا کوی. بد عذاب ئی د یهودانو د دی دنیا محکومانه ژوندون وفرمایه ـ لکه چه د یهودانو قوم کله د یونانی او کله د کلدانی پادشاهانو تر حکومت لاندی وو. او کله دبخت نصر او د نورو د شدائدو د مشق تخته ګرځیدلی وو ـ په آخر کښی د حضرت نبی کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم تر مبارک عهد پوری دوی مجوسیانو ته باج ورکوونکی وو ـ بیا مسلمان حکمرانان پر دوی مسلط شول ـ غرض له هغه وخته راهیسی تر نن ورځی پوری دوی ته من حیث القوم د عزت او آزادی ژوندون ور په برخه شوی نه دی، بلکه هر چیری چه اوسیدل د زیاترو پاچاهانو او حکامو له لوری به ئی سخت ذلتونه او خطرناک تکلیفونه ګالل (تیرول) د دوی مال او دولت او نور هیڅ شی دوی ته د سپکتیا او غلامی او محکومیت له ذلت او لعنت څخه نجات نه دی ورکړی ـ او نه به دوی تر قیامته پوری نجات ومونډلی شی، په آخر کښی کله چه دغه خلق د دجال مددګاران کیږی او له هغه سره راوځی، نو د حضرت مسیح علیه السلام د مسلمانو ملګرو له لاسه به وژل کیږی. کما ورد فی الحدیث.

إِنَّ رَبَّكَ لَسَرِيعُ الْعِقَابِ ۖ وَإِنَّهُ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٦٧﴾

بیشکه رب ستا خامخا ژر دی عذاب (د ده هغه چاته چه د عذاب اراده ئی وفرمائی) او بیشکه دغه «الله» خامخا ښه ښښونکی «د خطیاتو» ډیر رحم والا دی «په انعام د اجر او ثواب سره».

**تفسیر:** یعنی هغوی چه له شرارته لاس وانخلی، الله تعالیٰ ځینی وختونه پر دوی باندی په هم دغه دنیا کښی عذاب نازلوی ـ او هغومره سخت او بدرنگ مجرم چه توبه وباسی او په ندامت سره د الله تعالیٰ په لوری رجوع وکری نو د الله تعالیٰ مغفرت او رحمت هم لا یتناهی دی او په معافی کښی ئی هیڅ ځند (تاخیر) نشته.

---

وَقَطَّعْنٰهُمْ فِى الْاَرْضِ اُمَمًا ۚ مِنْهُمُ الصّٰلِحُوْنَ وَمِنْهُمْ دُوْنَ ذٰلِكَ ۖ وَبَلَوْنٰهُمْ بِالْحَسَنٰتِ وَالسَّيِّاٰتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿١٦٨﴾

---

او متفرق کړل مونږ دوی په ځمکه کښی فرقی فرقی «چه هیڅ ملک تری خالی نه دی» ځینی له دوی څخه نیکان دی او ځینی له دوی څخه راښکته له دی «مرتبی د صلاح» او وآزمویل مونږ دوی په نیکیو «نعمتونو لکه صحت، غنا» او په بدیو «زحمتونو لکه مرض فقر» ښائی چه دوی وګرځی «الله ته».

---

**تفسیر:** د یهودانو دولت برهم شو، نو په خپلو منځونو کښی د بی اتفاقی او مخالفت له کبله (وجی) هر طرف ته سره تیت او پرک (منتشر) شول هیڅ یو اجتماعی قوت او شوکت ئی پاتی نشو او مختلف مذاهب پیدا شول. «دغه احوال زمونږ محمدی امت ته د عبرت له پاره اورول شوی دی.» خو سره له هغه هم ځینی افراد په دوی کښی نیک هم وو. مګر اکثر ئی کافران او فاسقان وو. د دغو اکثرو له پاره هم مونږ د رجوع او انابت الی الله ډیری مواقع پیدا کری دی ـ کله مو دوی ته د عیش او تنعم ژوندون ورکری دی ـ او کله مو دوی په سختی او تکلیف مبتلا کری دی چه ممکن دی دوی احسان ومنی، یا له سختیو ځنی وویریږی او توبه وباسی، او د الله تعالیٰ په لوری رجوع وکری.

---

فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ وَّرِثُوا الْكِتٰبَ يَاْخُذُوْنَ عَرَضَ هٰذَا الْاَدْنٰى وَيَقُوْلُوْنَ سَيُغْفَرُ لَنَا ۚ وَاِنْ يَّاْتِهِمْ عَرَضٌ مِّثْلُهٗ يَاْخُذُوْهُ ؕ

---

نو پاتی شول وروسته له دوی نه (داسی) بد خلیفګان چه وارثان شول د کتاب «تورات له پلرونو خپلو څخه حال دا چه» اخلی دوی مبلغ «او اسباب» د دی لږی خسیسی «دنیا په رشوت د اخبارو او احکامو د تحریف په بدل» او

وائی دوی ژر به ببښنه وکړه شي مونږ ته او، حال دا که راشي دوی ته مبلغ «او اسباب نور» په مثل د دی نو اخلی دوی هغه «هم»؛

**تفسیر:** یعنی د دوی په ړومبنیو پلرونو او نیکونو کښي څه صالحین هم وو، خو د دوی وروستني اولاده او ځوځات داسي ناخلفه شو چه د هغه کتاب تورات شریف وارثان او حاملان وګرځیدل د دنیا د لږ څه سامان په اخیستلو سره ئی، د ده په آیتونو کښي په تحریف او کتمان شروع وکړه، رشوتونه ئی واخیستل او د تورات د احکامو په خلاف به ئی فیصلي صادرولی - بیا برسیره پر دی لوی ظلم او د تعجب ځای دا دی چه د داسي نالائقو او رذیلو حرکاتو له ارتکابه سره سره دوی داسي عقیده او دعوی هم کوله چه له دغو خبرو ځني مونږ ته د هیڅ ضرر اندیښنه نشته، مونږ خو د الله تعالیٰ اولاد او محبوبان یو، هر څه چه وکړو نو الله تعالیٰ به ضرور زمونږ له بی اعتدالیو ځني راتیریږی د هم دغی عقیدی په بناء، تل تیار اوسیږی چه په آینده کښي هر کله چه موقع پیدا شي، بیا رشوت واخلی او هم داسي د بی ایمانی په لوری اعاده وکړی -
ګواکی د دی خبری په ځای چه پر خپلو دغو تیرو حرکاتو نادمان شي، او په آینده کښي عزم ولری چه د داسي حرکاتو اعاده به نه کوی دوی بیخی له الله تعالیٰ ځني مأمون کیږی او د همغو شرارتونو او بی ایمانیو د اعادی عزم کوی له دی نه زیات حماقت او بی حیائی به نور څه وی؟

أَلَمْ يُؤْخَذْ عَلَيْهِم مِّيثَاقُ الْكِتَابِ أَن لَّا يَقُولُوا عَلَى اللَّهِ إِلَّا الْحَقَّ وَدَرَسُوا مَا فِيهِ ۗ وَالدَّارُ الْآخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَ ۗ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿١٦٩﴾

آیا نه وه اخیستی شوی له دوی څخه کلکه وعده په دی کتاب کښي «بلکه آخیستی شوی وه داسي» چه نه به وائی دوی پر الله مګر حق «رښتیا خبره» او لوستی «او لولولی» وو دوی هغه احکام چه په دغه (تورات) کښي وو؛ او دار د آخرت «جنت» خیر «ډیر غوره بهتر دی» دپاره ده هغه کسانو چه ویریږی (له عذابه او ځان ساتی له حرامو)؛ آیا نو تاسی عقل نه کوئ نه پوهیږئ «چه دنیا فانی او عقبا باقی ده»

**تفسیر:** یعنی په تورات کښي هغه عهد چه اخیستی شوی ؤ چه د الله تعالیٰ په نسبت پرته (علاوه) له رښتیا څخه د بل شي نسبت مه کوئ! آیا دوی ته دا نه دی معلوم چه د الله تعالیٰ جل جلاله له کتابونو او احکامو څخه سترګی پټوی او په الله جل جلاله پوری افتراء کوی حال دا چه دغه

خلق چه کتاب الله تورات لولی او لولوی ئی نو بیا څرنګه ویلی شی چه د هغه مضمون دوی ته نه دی معلوم یا ئی نه دی په یاد، حقیقت هم دغه دی چه د فانی دنیا په متاع «او د حرام رشوت» په عوض دوی دین او ایمان پلورلی دی او د آخرت له تکلیف او راحت څخنی ئی سترګی پټی کړی دی، دوی دومره هم نه پوهیږی چه له الله تعالیٰ څخنی ووېرېږی او د تقویٰ لاره اختیار کړی دوی ته د آخرت کور او د هغه ځای عیش او تنعم د دنیا له خوشالی څخه ډیر بهتر او فائق دی. کشکی اوس هم دوی ته عقل راشی (او له دنیا نه تیر او عقبا ته څیر شی).

---

وَالَّذِينَ يُمَسِّكُونَ بِالْكِتٰبِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ۗ اِنَّا لَا نُضِيْعُ اَجْرَ الْمُصْلِحِيْنَ ﴿١٧٠﴾

---

او هغه کسان «له دوی څخنی» چه ښه ټینګ نیسی کتاب او قائموی «سم اداء کوی سره له ټولو حقوقو» لمونځ؛ بیشکه مونږ نه ضایع کوو ثواب «عوض، بدل» د نیکوکارانو «له دوی څخه».

---

**تفسیر:** یعنی د توبی او د حال د اصلاح ور اوس هم پرانستلی دی، هغه کسان چه د شریرانو لاره پریږدی او د تورات د اصلی هدایاتو لاره ټینګه نیسی او د هغه د هدایت او پخوا ویلو سره سم اوس د قرآن کریم لمن ټینګه نیسی او د الله تعالیٰ د بندګی «لمانځه او نورو» حقوق په ښه دول (طریقه) سره اداء کوی. الغرض چه د ځان او نورو اصلاح ته متوجه کیږی؛ نو الله تعالیٰ د هغوی اجر نه ضایع کوی او دوی بلا شبهه د هغو خپلو محنتونو د خوږو میوو او ثمراتو څخه خامخا خوړونکی دی.

---

وَاِذْ نَتَقْنَا الْجَبَلَ فَوْقَهُمْ كَاَنَّهٗ ظُلَّةٌ وَّظَنُّوْٓا اَنَّهٗ وَاقِعٌۢ بِهِمْ ۚ
خُذُوْا مَآ اٰتَيْنٰكُمْ بِقُوَّةٍ وَّاذْكُرُوْا مَا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿١٧١﴾

---

او (یاد کړه ای محمده! یهودو ته) هغه وخت چه راپورته کړ مونږ غر «د طور» د پاسه د دوی ګواکی دغه غر یو سایبان ؤ «لکه چتری د دوی په سر وه» او غالب ګمان وکړ «وویریدل» دوی چه بیشکه هغه غر راپریوتونکی دی پر دوی «له هوا که تورات ونه منی او ومو ویل دوی ته چه» ونیسئ تاسی هغه «تورات» چه درکړی مو دی تاسی ته په قوت (زور ښه کوښښ) سره او

یاد کړئ هغه احکام چه په ده کښې دی ښائی تاسی ته چه ځانونه وساتئ تاسی! «له گناهونو».

**تفسیر:** یعنی هغه میثاق الکتاب ـ عهد او اقرار چه له دوی څخه اخیستی شوی ؤ او اوس دوی ته ور په یاداوه شي هغه په داسی یوه اهتمام سره اخیستی شوی ؤ چه غر د دوی په سرونو باندی ځوړند شوی ؤ. او دوی ته داسی ویلی شوی وو هغه شي تورات او نور چه تاسی ته درکاوه شي، هغه ښه ټینګ ونیسئ!، او په ښه عزم سره ئی وساتئ! او هغه نصائح چه تاسی ته شوی دی هغه تل پوره په یاد ولرئ! او عمل پری وکړئ که نه د انکار په صورت کښې وپوهیږئ چه الله تعالیٰ دغه غر پر تاسی غورځوی او هلاک کوی مو. افسوس دی چه هغه عهد او اقرار مو بیخی هیر کړی دی چه په دومره اهتمام، تخویف او تاکید له تاسی څخه اخیستی شوی ؤ. د «رفع الجبل» قصه په اول جزء د البقرة په «۸» رکوع کښې تیره شوی ده هلته ئی وګورئ!

وَ إِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِيٓ ءَادَمَ مِن ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَأَشْهَدَهُمْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوا۟ بَلَىٰ شَهِدْنَآ أَن تَقُولُوا۟ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ إِنَّا كُنَّا عَنْ هَٰذَا غَٰفِلِينَ ﴿١٧٢﴾ أَوْ تَقُولُوٓا۟ إِنَّمَآ أَشْرَكَ ءَابَآؤُنَا مِن قَبْلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةً مِّنۢ بَعْدِهِمْ أَفَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ ٱلْمُبْطِلُونَ ﴿١٧٣﴾

او «یاد کړه ای محمده!» هغه وخت چه واخیست رب ستا له بنی آدمو څنی له شاګانو د دوی څخه اولادی د دوی او شاهدان یی کړل دوی پر ځانونو خپلو باندی، (او وفرمایل الله دوی ته) آیا نه یم زه رب ستاسی! وویل دوی «او اقرار ئی وکړ» هو! «ته رب زمونږ ئی، په ربوبیت د الله» ګواه کړه مونږ خپل نفسونه، «د دی جهته» چه و «نه» وایئ تاسی په ورځ د قیامت کښې چه بیشکه مونږ وو له دغه «توحیده» غافلان (ناخبران) یا «د دی جهته چه» و «نه» وائی تاسی چه بیشکه هم دا خبره ده چه شرک غوره کړی ؤ پلرونو زمونږ پخوا له «مونږه» او وو مونږ اولاده پس له دوی نه «نو اقتدا کړی وه مونږ په هغو پسی» نو آیا هلاکوی (په عذابوی ته یا الله!) مونږ په

هغه کار باندی چه کړی ؤ باطله عمل کوونکو «مشرکانو».

**تفسير:** له خاص ميثاق څخه وروسته دلته د عام ميثاق ذکر کوی، چه د ګردو (تولو) حقه ؤ عقائدو او سماوی اديانو د اساس تيږه (ګټه) هم دغه ده چه انسان د الله تعالیٰ پر وجود او عمومی ربوبيت اعتقاد ولری، د مذهب ګرد (تول) عمارت يواځی پر هم دغه تاداو (بنياد) او تيږه (ګټه) ولاړ او ودان دی. کله چه دغه اعتقاد نه وی، په مذهبی ميدان کښی د عقل او فکر لار ښوونه او د انبياؤ او مرسلانو هدايات هيڅ نفع نه شی رسولی. که په پوره غور او تأمل سره وکتل شی نو د آسمانی مذهب تمام اصول او فروع بالاخر د الله تعالیٰ «عمومی ربوبيت» تر هم دغی عقيدی پوری منتهی کيږی. بلکه په هم دی کښی پيچلی شوی دی. سليم عقل، وحی او الهام د هم دغه اجمال شرح کوی نو دير ضروری ؤ چه دغه د هدايت تخم چه ښائی د ګردو (تولو) آسمانی تعليماتو مبدأ او منتها او د تولو ربانی هداياتو د وجود مجمل ورته وويل شی، په عامی فياضی سره د انسانی نوعی په ګردو (تولو) افرادو کښی وشيندلی (ونوستلی) شی څو هر انسان د عقل او فهم او وحی او الهام په اوبولو (پتولو) سره هغه تخم د شجرة الايمان والتوحيد تر درجی پوری ورسولی شی، که د قدرت له لوری ابتداء دغه تخم د انسانانو په زړونو کښی نه شيندلی (نوستلی) کيدی او د اساسی او جوهری عقدی حل د عقولو او فکرونو نوکانو ته سپارلی کيدی ، نو يقيناً به دغه مسئله هم د منطقی استدلالونو په ملاعبو او لوبو کښی ننوتله، يوه نظری مسئله به تری جوړيده چه پر هغی باندی تول لا چيری بلکه اکثره خلق هم متفق کيدی نشی، لکه چه تجربه راښيی چه د فکر او استدلال شورماشور علی الاکثر د اتفاق په ځای زياتره د آراؤ پر اختلاف منتج کيږی نو ځکه چيری ئی چه د غور او فکر د قوت، او د وحی او الهام د رڼا د قبولو استعداد په انسانانو کښی په وديعت سره ايښی دی. هلته د دی اساسی عقيدی له تعليمه هم دوی فطرتاً ګټه (فائده) کړی ده چه د هغه په اجمال کښی د تولو آسمانی هدايتونو تفصيل منطوی (نغختیء) او مندمج (راغوند) دی ـ او چه بی له هغه د مذهب د عمارت هيڅ ستن نشی دريدلی ـ دا د همغه ازلی او ربانی تعليم اثر دی چه د آدم عليه السلام اولاده په هر قرن او په هره ګوښه کښی د حق تعالیٰ د عمومی ربوبيت په عقيدی باندی تر يوه نه تر يوه حده پوری پرله پسی متفق پاتی دی ـ او هغه معدود افراد چه د کومی عقلی او روحی ناروغی له سببه ئی د دی عمومی فطری احساس په خلاف غږ پورته کړی دی ـ دوی بالاخر نه يوازی دنيا ته بلکه په خپل نظر کښی هم داسی دروغجن ثابت شوی دی، لکه چه يو صفرائی رنځور د لذيذو او ښو خوندورو خوږو په ترخو او بد خوندو ښکارولو کښی دروغجن ثابتيږی. په هر حال د پيدايښت له ابتداء څخه تر نن ورځی پوری د الله جل جلاله په کبری ربوبيت باندی د هری درجی او طبقی انسانانو عمومی اتفاق او اجماع د دی خبری زبردست سند او لوی دليل دی چه دغه عقيده د عقولو او افکارو د ځغليدلو او مندو وهلو څخه لا پخوا د هم دغه حقيقی فاطر له جانبه د آدم عليه السلام اولادی ته بلا واسطه تلقين شوی ده، که نه د فکر او استدلال له لاری د داسی

یوه اتفاق پیدا کیدل تقریباً ناممکن ؤ. د قرآن کریم دغه امتیازی خصوصیت دی چه په حاضرو آیتونو کښې د دې عقیدې د دغه فطری مساوات پر اصلی اسرارو باندې رڼا (رڼرا) اچوی.
بلاشبهه زمونږ نه دې په یاد چه د دې اساسی عقیدې تعلیم کله، چیرې او په کومو اطرافو او اکنافو کښې راکړې شوی دی؟ ولې همغسې چه یو خطیب، نطاق، منشی او محرر یقین لری چه هرومرو (خامخا) ده ته چا د عمر په ابتداء کښې د کلماتو ادا ورښوولې ده، چه د هغو په اثر یې پر مخ تګ او ترقی کړې ده او نن ورځ تر دغې اندازې پورې رسیدلی دی اګر که د ړومبنی لفظ ښوونکی ـ او د ښوولو وخت او ځای او نور محلی خصوصیات بلکه بالذات په خپله همغه ښوونه ئې هم ور په یاد نه دی، خو بیا هم له دغو موجوده آثارو څخه یقین دی چه دغه امور ضرور بالضرور واقع شوی دی. هم داسې دی د الهٰی ربوبیت په عقیدې باندې د انسان اتفاق چه د اقوامو او زمانو دغه ټول اختلافونه د دې خبرې ښکاره شاهد دی، چه دغه شی د فطرت په ابتداء کښې د کوم معلم په ذریعه دوی ته ور رسیدلی دی. باقی د تعلیمی خصوصیاتو او احوالو محفوظ نه پاتې کیدل په دغه تسلیم او قبول کښې هیڅ خرخشه او خلل نشې آچولی دغه ازلی او فطری تعلیم چه تر نن ورځې پورې د هغه ښکاره آثار د انسانانو په فطرت کښې پرله پسې شته هر انسان د الله جل جلاله د حجت په مقابل کښې ملزم او ملامتوی. هر څوک چه خپل غفلت بې خبرې یا د پلرونو او نیکونو په پټو سترګو تقلید د الحاد عذر او د خپل حقانیت دلیل ګڼی د هغه په مقابل کښې د بې زوال خدای دغه قاطع حجت چه انسان خپل اصلی فطرت ته متوجه ګرځوی فیصله کوونکی ځواب دی. حضرت شاه صاحب فرمائی چه (الله تعالیٰ د آدم علیه السلام له شا ځنې د ده اولاده او د اولادې له شاګانو ځنې ئې د دوی اولاده وویسته، له ګردو (تولو) ځنې ئې د خپل الوهیت اقرار واخیست بیا ئې بیرته په همغو شاګانو کښې ور داخل کړل، له دې نه دغه مدعا ده چه د الله تعالیٰ په مطلق رب منلو کښې هر انسان د خپل ځان له پاره کفایت کوی، د پلرونو تقلید نه دی پکار، که پلار مشرک شی نو په ځوی باندې ئې لازم دی چه ایمان راوړی! که چا ته داسې یوه شبهه پیدا شی چه هغه عهد خو زما په یاد نه دی پاتې، نو بیا څه حاصل؟ نو داسې دې وپوهیږی چه د هغه نښه خو د هر انسان په زړه کښې ده او په ګردو (تولو) ژبو باندې د هغه خبره جاری ده چه د ګردو (تولو) شیانو پیدا کوونکی الله جل جلاله دی او پر دې باندې تول جهان قائل دی او هر چیرې مشهور دی ـ او هغه کسان چه منکران یا مشرکان شوی دی نو دوی د خپل ناقص عقل په مداخله او ښوونې شرک غوره کړی دی، نو بیا دوی په خپله دروغجنان دی.)

وَكَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ وَلَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿١٧٤﴾

او هم داسې «لکه قصه د میثاق» په تفصیل سره بیانوو مونږ آیتونه د قدرت خپل) او دپاره د دې چه دوی ښائی را وګرځی «له چتې (بیکاره) تقلیده

او خپل فکر وچلوی».

**تفسیر:** په موضح القرآن کښی راغلی دی چه دغه قصه ئی یهودانو ته واوروله چه هغوی هم له خپل عهده همغسی گرځیدلی وو لکه چه مشرکان گرځیدلی دی.

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ الَّذِيٓ اٰتَيْنٰهُ اٰيٰتِنَا فَانْسَلَخَ مِنْهَا فَاَتْبَعَهُ الشَّيْطٰنُ فَكَانَ مِنَ الْغٰوِيْنَ ﴿۱۷۵﴾ وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنٰهُ بِهَا وَلٰكِنَّهٗٓ اَخْلَدَ اِلَى الْاَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ ۚ فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ الْكَلْبِ ۚ اِنْ تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ اَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَثْ ۭ ذٰلِكَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ۚ فَاقْصُصِ الْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ﴿۱۷۶﴾

او ولوله (ای محمده !) پر دغو «یهودانو یا قوم خپل» خبر «او حال» د هغه «سړی» چه ورکړی ؤ مونږ هغه ته «علم» د آیتونو خپلو نو راووت «او بی زار شو په کفر او اعراض سره» له هغو آیتونو، نو ورپسی شو شیطان «او تیر ئی ایست» نو شو له گمراهانو او که اراده فرمائلی وی مونږ نو خامخا پورته کړی به ؤ مونږ دی په دی آیتونو سره «مقام الابرار ته» ولیکن ده مینه وکړه ځمکی ته او متابعت ئی وکړ د هوا خپلی نو مثال د ده «په خساست کښی» په شان د سپی دی، چه که حمله وکړی پری «یا ئی کوری، چغه کړی او وئی شړی» نو ژبه راباسی او غاپی او که ئی پریږدی «او څه ورته ونه وائی هم» ژبه راباسی او غاپی؛ دغه «تیر مثل» مثال د قوم هغه دی چه دوی «له ډیره کبره او عناده» نسبت د دروغو کوی آیتونو زمونږ ته، نو بیان کړه «دوی ته» دغه قصی «او احوال» ښائی چه دوی فکر وکړی «په کښی او ایمان راوړی».

**تفسیر:** د اکثرو مفسرینو په نزد دغه آیات د «بلعم بن باعوراء» په حق کښی نازل شوی دی چه یو صالح عالم او متصرف فقیر ؤ وروسته ده د الله تعالیٰ آیات او هدایات پریښودل، او د یوی ښځی په اغوا او د دولت په طمع د حضرت موسیٰ علیه السلام په مقابل کښی د خپلو تصرفاتو په

چلولو او ناپاکو تدابیرو په کار آچولو لګیا شو. آخر ئی موسٰی علیه السلام ته هیڅ زیان او نقصان ونه شو رسولی او دی په خپله ابدی مردود شو. د هغه الهٰی آیتونو علم چه «بلعم» ته ورکړی شوی ؤ، که الله تعالیٰ اراده کړی وی نو دی به د هغه په وسیله ډیرو لوړو مرتبو ته رسیدلی ؤ، او دغه هلته کیدی شو چه ده په خپل علم عمل کړی وی . او د الله تعالیٰ د آیتونو د اتباع توفیق ور په برخه کیده خو داسی ونه شو، ځکه چه ده په خپله له آسمانی برکاتو او آیتونو ځنی مخ واړاوه، او د ځمکی د شهواتو او لذاتو په لوری متوجه شو، دی د نفس په غوښتنو پسی رهی (روان) ؤ، او شیطان ده پسی لویدلی تعاقب ئی کاوه، تر دی چه د پخو ګړو تلونکو او ګمراهانو په سلسله کښی ورننووت، په دغه وخت کښی د ده حال د هغه سپی په شان شو چه ژبه ئی د باندی وتلی وی، او در ګرده غاپی او هونګیږی که حمله پری وکړی او کوری ئی کړی ـ یا ئی همغسی خوشی پریږدی، په هر صورت سره هغه پرله پسی غاپی، هونګیږی او خپله ژبه یی ویستلی وی، ځکه چه په طبیعی دول (طریقه) د زړه د کمزوری له وجی د تودی هوا په د باندی ایستلو او د سړی هوا په ننه ایستلو باندی په سهولت قادر نه دی ـ هم داسی په سفلی غوښتنو کښی ئی د سخت سا وهونکی سپی حال شو، چه د اخلاقی کمزوری له سببه په آیات الله پوهیدل او نه پوهیدل ـ تنبیه کول او نه کول دواړه حالتونه د ده په حق کښی برابر شول ﴿ سَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ ءَأَنذَرۡتَهُمۡ أَمۡ لَمۡ تُنذِرۡهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴾ د دنیا له حرصه د هغه ژبه د باندی راوتلی او ځړیدلی وه، او د آیات الله د ترک له نحوسته د بدحواسی او د زړه د پریشانی نقشه او حال د پرله پسی غپیدلو په مثال کښی ظاهر شو. ممکن دی چه د «بلعم» د باطنی او معنوی کیفیت د ظاهرولو له پاره یوازی د یو مثال په دول (طریقه) د ﴿ إِن تَحۡمِلۡ عَلَيۡهِ يَلۡهَثۡ أَوۡ تَتۡرُكۡهُ يَلۡهَثۚ ﴾ مضمون ذکر کړی شوی وی او کیدی شی چه په دنیا یا آخرت کښی د ده له پاره هم دغه سزا تجویزه شوی وی، چه په ظاهری او حسی دول (طریقه) ژبه یی د سپی په شان د باندی وتلی وه، او تل لګه د ویریدلی ـ بد حواس او پریشان انسان په شان وئیږی او غاپی ـ العیاذ بالله. ځینی وائی چه دغه سړی امیه بن ابی الصلت ؤ چه ده ته هم د ځینو پخوانیو کتابو علم ورکړی شوی ؤ او په دی ښه خبر ؤ چه محمد صلی الله علیه وسلم آخر الزمان نبی دی، خو سره له هغه له ډیره کبره او حسده او عناده پری کافر شو. د آیتونو شان نزول هر څه چه وی په هر حال دلته د هوا پرستانو انجام ښوولی شوی دی چه د حق له قبلولو، یا له ښه پوهیدلو څخه وروسته، یوازی په دنیوی طمع او د سفلی غوښتنو په متابعت الهٰی احکام پریږدی، او د شیطان پر اشاراتو درومی او د الله تعالیٰ د عهد او میثاق هیڅ پروا نه کوی. ګواکی یهودانو ته تنبیه وفرمایله شوه چه یواځی علم‌الکتاب دومره نافع نه شی کیدی ، تر څو پوری چه په صحیحه معنی سره د هغه اتباع ونه شی.

﴿ مَثَلُ ٱلَّذِينَ حُمِّلُواْ ٱلتَّوۡرَىٰةَ ثُمَّ لَمۡ يَحۡمِلُوهَا كَمَثَلِ ٱلۡحِمَارِ يَحۡمِلُ أَسۡفَارَۢاۚ ﴾ «٢٨» جزء د الجمعة «٥» آیت (١) رکوع بدو عالمانو لره په دغو آیتونو کښی لوی عبرتناک پند او عبرت او سبق شته که پری غور او فکر وکړی.

سَآءَ مَثَلًا اِلْقَوْمُ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَاَنْفُسَهُمْ كَانُوْا يَظْلِمُوْنَ ﴿١٧٧﴾

بد مثال دی «مثال د» قوم هغه چه نسبت د دروغو ئی کړی وی آیتونو زمونږ ته او په ځانو خپلو وو دوی چه ظلم به ئی کاوه (په کفر او معاصیو سره).

**تفسیر:** د مشرکینو او نورو په تردید کښی په لوی قرآن کښی ځای په ځای د عنکبوت ذباب ـ غنی ـ مچ او نورو مثالونه بیان شوی دی مګر د دغو خلقو مثال په داسی بد دول (طریقه) سره بیان شوی دی چه هیڅ یو غیرتمن انسان حتی المقدور د هغه ممثل خپل ځان نشی ګرځولی، او هغه بی حیا او غدار چه خپل ځان د هغه مثال ګرځوی، نو هغه فقط د خپل ځان له پاره زیان رسوی.

مَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِيْ ۚ وَمَنْ يُّضْلِلْ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿١٧٨﴾

هر چا ته چه هدایت وکړی (سمه صافه لاره وښیی) الله نو همغه د هدایت (او سمی صافی لاری) موندونکی دی، او هر هغه څوک چه ګمراه کړی (ده لره الله) نو دغه ګمراهان هم دوی دی زیان کاران.

**تفسیر:** علم او فضل هم هلته انسان ته په کار ورځی چه د الله تعالیٰ په هدایت او مرسته (مدد) له صحیح علم سره موافق د عمل توفیق ور په برخه شی. هغه علم چه انسان موافق نه کړی چه د هغه په ښوونه په سمه لاره باندی لاړ شی، نو هر څومره چه دغه عالم علمی فضیلت او قابلیت ولری ودی پوهیږی چه پرته (علاوه) له زیان او خساری څخه بل هیڅ شی به د ده په لاس ورنشی نو ځکه انسان دی په خپل علم او فضل باندی مغرور نشی، بلکه تل دی له الله تعالیٰ څخه هدایت او توفیق وغواړی.

وَلَقَدْ ذَرَاْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيْرًا مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ ۖ لَهُمْ قُلُوْبٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ بِهَا ۖ وَلَهُمْ اَعْيُنٌ لَّا يُبْصِرُوْنَ بِهَا ۖ وَلَهُمْ اٰذَانٌ لَّا يَسْمَعُوْنَ بِهَا ۗ اُولٰٓئِكَ كَالْاَنْعَامِ بَلْ هُمْ اَضَلُّ ۗ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْغٰفِلُوْنَ ﴿١٧٩﴾

او خامخا په تحقیق پیدا کړي دي مونږ دپاره د جهنم (دوزخ) ډیر کسان له جن «پیریانو» او له انسانانو چه دي دوی لره «داسې بې معنی» زړونه چه هیڅ نه پوهیږي دوی په هغو سره (حق له باطله) او دي دوی لره «داسې بې فائدې» سترګې چه نه ویني دوی په هغو سره «نښې د قدرت» او دي دوی لره «داسې بې کاره» غوږونه چه نه اوري په هغو سره (آیتونه د الله) دغه کسان په شان د چارپایانو دي «د نفساني امورو په اتباع» بلکه دوی «چه مکلفان دي» ډیر ګمراهان دي (له چارپایانو ځنی) دغه کسان هم دوی دي غافلان «کاملان په بې خبرۍ کښې».

---

**تفسیر:** دغه آیت په ښکاره ډول (طریقه) د ﴿ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴾ له آیت سره معارض معلومیږي نو ځکه ځیني مفسرین هلته د ﴿ لِيَعْبُدُونِ ﴾ لام د «غایت» له پاره او دلته په ﴿ لِجَهَنَّمَ ﴾ کښې لام د «عاقبت» له پاره مرادوي یعنې د ګردو (تولو) له پیدا کولو ځنی اصلي مطلب خو عبادت دی لیکن څرنګه چه ډیر انسانان او پیریان به دغه مطلب پوره نه کړي شي. نو عاقبت به دوزخ ته لیږلی کیږي نو د دغه عاقبت په لحاظ ویلی شو چه ګواکي دوی دوزخ له پاره پیدا شوي دي کمافي قوله تعالیٰ ﴿ فَالْتَقَطَهُ آلُ فِرْعَوْنَ لِيَكُونَ لَهُمْ عَدُوًّا وَحَزَنًا ﴾ خو د محققینو په نزد دغه تکلف ته هیڅ حاجت نشته او دوی په دواړو ځایونو کښې لام د (غایت) له پاره بللی دی ـ مګر په ﴿ لِيَعْبُدُونِ ﴾ کښې «تشریعي غایت» او دلته په ﴿ لِجَهَنَّمَ ﴾ کښې «تکویني غایت» دی.

﴿ لَهُمْ قُلُوبٌ ﴾ الآية ـ چه دي دوی لره داسې بې معنی زړونه چه هیڅ نه پوهیږي په هغو سره حق له باطله الخ) یعنې زړه، غوږونه، سترګې او نور ګرد (تول) شیان ئې شته دي، خو نه په خپلو زړونو کښې په آیات الله کښې غور کوي او نه د قدرت نښې د عمق او اعتبار په نظر مطالعه کوي ـ او نه الهٰي خبرې د قبول په غوږونو سره آوري. څرنګه چه د چارپایانو (حیواناتو) ګرد (تول) ادراکات یواځې د خوړلو او څښلو او بهیمي جذباتو په دائره کښې محدود وي هم دغسې د دوی حال هم دی چه خپل زړونه، دماغونه، لاسونه، پښې، سترګې او غوږونو الغرض د الله تعالیٰ نوري ورکړی شوي قواوي یواځې د دنیوي لذائذو او مادي غوښتنو د تحصیل او تکمیل له پاره پکار اچوي ـ او له انساني کمالاتو او د ملکوتي خصائلو له اکتساب سره هیڅ سر او کار نه لري، بلکه که غور وکړ شي نو د دوی حال له یوه لوري د حیواناتو له حاله هم بدتر دی ـ ځکه چه حیوان د خپل خاوند په بللو راځي او د ده په رټلو او شړلو اوړي، مګر دوی له سره د خپل حقیقي مالک په غږ باندې غوږ نه ږدي بل دا چه حیوانات له خپلو فطري قواؤ ځنی همغه کار اخلي چه د قدرت له لوري د هغوی له پاره پیدا شوي دي او له هغه ځنی زیات استعداد په هغوی کښې له سره نشته ـ لیکن هغه فطري قوت او استعداد چه د روحاني او عرفاني ترقیاتو له پاره په دغو خلقو کښې په ودیعت ایښود شوي دي، دوی هغه د خپل مهلک غفلت او بې لاری

لامله (له وجی) په خپلو لاسونو سره ضایع او معطل کړی دی.

وَلِلّٰهِ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى فَادْعُوْهُ بِهَا ۪ وَذَرُوا الَّذِيْنَ يُلْحِدُوْنَ فِيْٓ اَسْمَآئِهٖ ؕ سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۸۰﴾

او خاص الله لره دی (تول) نومونه ډیر ښه نو وبولئ دغه «الله» په همغو «ښو نومونو» سره او پرېږدئ هغه کسان چه «له ډیره جهله» الحاد «کوږوالی» کوی په نومونو د الله کښې ژر به سزا ورکړه شي دوی ته د هغو کارونو چه وو دوی چه کول به ئې.

**تفسیر:** د غافلینو حال ئې بیان کړ او په هغه سره ئې مؤمنانو ته تنبیه ورکړه چه تاسی غفلت مه اختیاروئ، هغه شي چه غفلت لری کوی د پاک الله یاد دی، نو تاسی پاک الله تل په ښو نومونو سره یادوئ! او په ښو صفاتو ئې وستایئ! او هغه کسان چه د الله جل جلاله د اسماؤ او صفاتو په نسبت کوږ تګ کوی هغوی پرېږدئ! دوی څه چه کوی همغه به مومی ـ د الله تعالیٰ د نومونو او صفتونو په متعلق کوږ تګ دا دی چه په الله تعالیٰ باندی د داسی نامه او صفت اطلاق وکړی شی چه د هغه اجازه شریعت نه وی ورکړی ـ او د حق جل وعلا د تعظیم او اجلال سره لائق نه وی یا د ده د مخصوص نامه او صفت اطلاق په غیر الله باندی وشی ـ یا د هغو د معنی ګانو په بیانولو کښې بی اصوله تاویل ـ لاندی باندی او وړاندی وروسته وکړی شي یا ئې په معاصی مثلاً سحر او په نورو مواقعو کښې استعمال کړی یا له خپله ځانه پاک الله ته نومونه سازوی، لکه چه یهودان ئې ابوالمکارم ـ پلار د کرمونو او ابیض الوجه ـ سپین مخی بولی. او نصاریٰ ئې ابوالمسیح ـ پلار د مسیح بولی او حکماء ئې علة الاولی ړومبنی علت بولی دغه ګرد (تول) کاره تلل دی. کله چه د دوزخیانو بحث تیر شو. نو اوس د جنتیانو حال بیانیږی

وَمِمَّنْ خَلَقْنَآ اُمَّةٌ يَّهْدُوْنَ بِالْحَقِّ وَبِهٖ يَعْدِلُوْنَ ﴿۱۸۱﴾

او ځینی له هغو کسانو چه پیدا کړی دی مونږ یو امت (جماعت) دی چه لاره ښیی خلقو ته په حقه او په هم دی «حق» سره برابری «او انصاف» کوی (په ګردو (تولو) معاملاتو کښې ).

**تفسیر:** دغه جماعت محمدی مرحومه امت دی علیٰ صاحبها افضل الصلوٰة والتسلیم چه دوی له هر راز (قسم) افراط او تفریط او کږو تللو څخه بیل شوی دی، د صداقت، عدالت، دیانت، انصاف

او نورو محاسنو طریقه ئی اختیار کړی ده، او د همغو فضائلو په لوری نورو ته هم دعوت ورکوی وروسته له دی نه د دی امت مخالفینو او د حق تکذیب کوونکو ذکر راځی.

وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا سَنَسْتَدْرِجُهُم مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٨٢﴾ وَأُمْلِي لَهُمْ ۚ إِنَّ كَيْدِي مَتِينٌ ﴿١٨٣﴾

او هغه کسان چه نسبت د دروغو کوی آیتونو زمونږ ته ژر به ونیسو مونږ دوی له داسی لوری چه نه به پوهیږی دوی او مهلت ورکوم زه دوی ته؛ بیشکه چه کید (حیله، نیونه) زما ډیر سخت دی.

**تفسیر:** دروغجنو مجرمانو ته ډیر ځلی علیالفور سزا نه ورکوله کیږی، بلکه د دنیوی عیش او عشرت او پراخی ورونه ور پرانیستلی شی، تر دی چه له الٰهی سزا څخنی بی فکره او د جرائمو په ارتکاب کښی لا زړور شی، او ورو ورو خپل ځانونه په ښکاره ډول (طریقه) د هغی انتهایی سزا مستحق کرځوی چه په دوی باندی جاری کیدونکی ده، هم دغه د پاک الله مهلت ورکول او استدراج دی. مگر دوی له حماقت او بی حیائی نه داسی گومان کوی چه دا پر مونږ باندی د الله تعالیٰ لورینه او مهربانی ده. حقیقت دا دی چه الله تعالیٰ دوی د انتهائی عذاب له پاره تیاروی. د الله کید ـ حیله یا پټ تدبیر دی ته وائی چه داسی کار وکړی چه د هغه ظاهر رحمت او باطن ئی قهر او عذاب وی، بیشکه چه د الله تعالیٰ تدبیر ډیر مضبوط او پوخ دی او د هغه مدافعه په هیڅ یوه حیله او تدبیر او نورو سره نه شی کیدی .
وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه شپه تر گهیځ (سحر وختی) پوری د صفا په غره په تبلیغ او تبشیر او انذار مصروف ؤ، او د قریشو هر تولی ئی بیل بیل د اسلام په لوری باله، بله ورځ یو مشرک مسلمانانو ته وویل ـ ستاسی دغه ملگری لیونی شوی دی ځکه چه تیره شپه تر سحاره پوری غریده نو د دوی په رد دغه آیت چه اوس ئی لولو نازل شو

أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا ۗ مَا بِصَاحِبِهِم مِّن جِنَّةٍ ۚ إِنْ هُوَ إِلَّا نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿١٨٤﴾ أَوَلَمْ يَنظُرُوا فِي مَلَكُوتِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا خَلَقَ اللَّهُ مِن شَيْءٍ وَأَنْ عَسَىٰ أَن يَكُونَ قَدِ اقْتَرَبَ أَجَلُهُمْ ۖ فَبِأَيِّ

حَدِيْثٍۭ بَعْدَهٗ يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۸۵﴾

آیا فکر نه دی کړی دغو (مکذبینو چه پوه شوی به وی په دی باندی) چه نشته په صاحب «ملګری» د دوی پوری هیڅ یو حال د لیونتوب نه دی دغه «صاحب» مګر «خو دی» یو ویروونکی ښکاره. آیا نظر نه کاوه دوی (د استدلال په طریقی سره) په سلطنت د آسمانونو او د ځمکی کښی او په هغه کښی چه پیدا کړی دی الله له هر شی څخه او (بل په دی کښی فکر نه کوی) چه ښائی چه وی (دا خبره) چه په تحقیق نژدی شوی به وی وعده د دوی، نو په کومی یوی خبری پس له دی «قرآنه» ایمان به راوړی دوی.

**تفسیر:** یعنی آخر آیت الله ته د دروغو نسبت کول او د هغو له بد انجام څخه د غافلیدو سبب څه شی دی، د دغو آیتونو راوړونکی حضرت محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم عاقل کامل او امین فاضل دی معاذ الله کوم بی عقل او مجنون نه دی، هغه ګرد (تول) عمر له تاسی سره اوسیدلی دی، د هغه د تول ورو او لویو احوالو څخه تاسی واقف یئ. د ده عقل، پوهه، امانت او دیانت لا له پخوا مسلم او معروف دی. او له هغه ذات څخه چه دغه کتاب راوړی شوی دی، هغه د ګرد (تول) عالم مالک، مطلق شهنشاه، او د هر څیز خالق دی. د هغه پر نهایت مضبوط او محکم نظام سلطنت، بلکه پر تولو ورو او لویو شیانو چه د الله تعالیٰ مخلوقات دی غور او فکر وکړئ مثلاً هم دغو ارتو او لویو آسمانونو ته د استدلال په طریقه دقت وکړئ چه پکښی «۱۲» برجونه او رنګارنګ بیشماره ستوری دی، چه ځینی یی سیارات او ځینی ئی ثوابت دی، لمر او سپوږمی لری، او دقت وکړئ د ځمکی په ارت او لوی ملک کښی چه په کښی دول دول (قسم قسم) ونی سیندونه، بحرونه، غرونه، حیوانات، خزندی، الوتونکی او راز راز (قسم قسم) بادونه، وریځی او بارانونه شته او هر هغه شیان چه پیدا کړی دی الله تعالیٰ هغه هم دوی وینی له هر شی چه د صانع جل جلاله کامل قدرت ورته معلوم شی نو د دغو «تکوینی» او «تنزیلی» آیتونو تصدیق به وکړی، بیا نو د آیات الله په تسلیم کښی څه عذر باقی دی. ښائی دوی وپوهول شی چه د دوی د موت او هلاکت وخت به قریب شوی وی، لهٰذا په هغه تیاری کښی چه بعث بعد الموت له پاره وکړی شی ښائی چه جلتی او تیزی وشی! او ښائی چه له بدو کارونو توبه ګار او ښو کارونو ته حرص او تلوار وکړی!

ای مؤمنه! چه شته نن په کالبوت کښی دی حیات
فکر من شه! د اسبابو د نجات
مرګ نژدی دی، غافل مه اوسه ژر وینښ شه!
بی فائدی وی بیا هیهات په سکرات

﴿ فَبِاَيِّ حَدِيْثٍۭ بَعْدَهٗ يُؤْمِنُوْنَ ﴾ نو په کومی خبری به پس له دی قرآنه دوی ایمان راوړی؟)

يعنى كه په قرآنى آيتونو دوى ايمان رانه وړى نو په دنيا كښې بله كومه داسې خبره او كلام شته چه پر هغه باندى د دوى د ايمان راوړلو اميد وكاوه شى، داسې ويوهيږئ چه د دغو بدبختانو له پاره د ايمان دولت له سره نه دى مقرر شوى.

مَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ ۚ وَيَذَرُهُمْ فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿١٨٦﴾

هر هغه چا لره چه گمراه كړى الله نو نشته هيڅ لار ښوونكى د «حق» ده ته؛ او «الله» پريږدى دوى په شرارتونو خپلو كښې په دى حال كښې چه حيران او سرگردانه گرځى.

**تفيسر:** هدايت او ضلالت دواړه لكه نور شيان د الله تعالىٰ په قبضه كښې دى ـ كه الله جل جلاله اراده ونه فرمائى نو گرد (تول) د هدايت سامان همغسى پاتى كيږى او سرى له هيڅ لورى نه منتفع كيږى هو عادتاً هلته الله تعالىٰ د توفيق هدايت وركوى چه بنده په خپل كسب او اختيار سره پر هغى ليارى تگ وكړى او تلل پرى وغواړى او هغه چه په لوى لاس يوائحى بدى او شرارت ته ملا وترى نو پاک الله هم وروسته له لار ښوولو ځخه هغه په همغه خپل حال باندى پريږدى.

يَسْأَلُونَكَ عَنِ السَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَاهَا ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ رَبِّي ۖ لَا يُجَلِّيهَا لِوَقْتِهَا إِلَّا هُوَ ۚ ثَقُلَتْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ لَا تَأْتِيكُمْ إِلَّا بَغْتَةً ۗ يَسْأَلُونَكَ كَأَنَّكَ حَفِيٌّ عَنْهَا ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ اللَّهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٨٧﴾

پوښتنه كوى (منكران د قيامت) له تا نه «اى محمده» له «حاله د» قيامت چه كله به وى وخت د قيام «ښكاره كولو د هغه» ووايه «ته دوى ته» بيشكه خبره هم دا ده چه علم د ده په نزد د رب زما دى، نه ښكاروى دا قيامت «هيڅوک» په وخت د ده كښې مگر «ښكاروى ئى» هم دغه «الله» درونده دى (د قيامت ډار) په «مخلوقاتو د» آسمانو او «په مخلوقاتو د» ځمكى كښې را به نشى دغه (قيامت) تاسى ته مگر «دربشى» ناڅاپه «بى خبره» پوښتنه كوى دوى له تا نه «اى محمده» گواكى ته مبالغه كوونكى ئى «په

سؤال کښی » له قیامته (یعنی ته عالم ئی په قیامت) ووایه چه بیشکه علم د دغه «قیامت خاص» په نزد د الله دی او لیکن زیاتره خلق نه پوهیږی «په دی چه علم ئی خاص الله لره دی».

---

تفسیر: رومبی په ﴿ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ قَدِ اقْتَرَبَ أَجَلُهُمْ ﴾ کښی خاص د هغه قوم د اجل او موت ذکر ؤ چه هغوی ته هیڅ معلوم نه ؤ چه اجل کله راځی، نو بیا دلته د ګردی (تولی) دنیا د اجل قیامت په نسبت تنبیه فرمائی. کله چه چا ته د خپل مرګ د وخت او نیټی اطلاع او خبر نه وی چه کله به راځی؟ نو د دنیا د موت او اجل په نسبت څوک څه ویلی شی چه په کوم تاریخ او په کومه نیټه راځی. د دی تعین علم پرته (علاوه) د علام الغیوب الله جل جلاله بل هیڅ یو موجود سره نشته، همغه پاک الله په خپل معین او مقدر وخت کښی قیامت واقع کوی او دغه را ښکاروی چه د الله تعالیٰ په علم کښی د هغه وخت هم دغه دی. پر آسمان او ځمکه باندی به دغه واقعه ډیره درنه وی او د هغه علم هم ډیر دروند دی چه ما سوا الله بل چا ته حاصل نه دی، اګر که د دغی واقعی ډیر قرائن او امارات شته چه نبیانو علیهم السلام بالخاصه زمونږ آخر الزمان پیغمبر محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم بیان فرمایلی دی خو بیا هم د دغو ګردو (تولو) علائمو له ظهوره وروسته کله چه قیامت واقع کیږی، نو هغه به بیخی په بی خبری یو ناڅاپه او دفعتاً پیښیږی لکه چه د بخاری شریف او د نورو په احادیثو کښی تفصیلاً مذکور دی.

﴿ يَسْـَٔلُونَكَ كَأَنَّكَ حَفِىٌّ عَنْهَا ﴾ الآية - پوښتنه کوی دوی له تا نه ګواکی ته مبالغه کوونکی ئی په سؤال کښی له قیامته یعنی ته عالم ئی په قیامت یا مهربان ئی په پوښتنه کوونکو باندی او خوشالیږی په سؤال له دی قیامته او حال دا چه ته خپه کیږی په دی پوښتنه، ووایه بیشکه چه علم د ده په نزد د الله دی ولیکن زیاتره خلق نه پوهیږی په دی خبره چه علم ئی خاص الله لره دی.» د دی خلقو د سؤال له طرزه ظاهریږی چه ګواکی دوی ستاسی په نسبت داسی خیال کوی چه ته د دی خبری په تحقیق، تفتیش، پته او سراغ لګولو کښی مشغول ئی او له تلاشه وروسته دی د هغه علم ته ځان رسولی دی. حال دا چه دغه علم حق جل وعلیٰ شانه سره مخصوص دی او انبیاء علیهم السلام په هغو شیانو پسی دومره نه ګرځی چه هغه د الله تعالیٰ له جانبه د کوم مصلحت لامله (له وجی) پټ ساتل شوی وی او نه دغه کار د دوی په اختیار کښی شته چه که هر څه وغواړی هغه په کوښښ سره ضرور معلوم کړی د دوی منصب او وظیفه دا ده هغه بیشماره علوم او کمالات چه د الله تعالیٰ له لوری افاضه کیږی، هغه په ډیره شکر کولو او قدر پیژندلو سره تل قبول کړی مګر په دغو خبرو باندی عوام کالانعام څه پوهیږی؟.

---

قُل لَّآ أَمْلِكُ لِنَفْسِى نَفْعًا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ۚ وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ ٱلْغَيْبَ لَٱسْتَكْثَرْتُ مِنَ ٱلْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِىَ

السُّوۡٓءُ ۚ اِنۡ اَنَا اِلَّا نَذِيۡرٌ وَّبَشِيۡرٌ لِّقَوۡمٍ يُّؤۡمِنُوۡنَ ﴿۱۸۸﴾

ووايه (اى محمده ! دوى ته) چه زه نه لرم واک دپاره د نفس (ځان) خپل د «رسولو د» نفع او نه د «دفع كولو د» ضرر مګر هغه څه چه اراده وفرمائى الله او كه وى زه چه پوهيدلى په (خبرو د) غيب باندى نو خامخا حاصل كړى به مى وى ډير له خير «نفعى» څخنى، او نه به ؤ رسيدلى ماته كوم زيان، نه يم زه مګر «خو يم» ويروونكى (د كفارو په جحيم سره) او زيرى كوونكى دپاره د «هغه» قوم چه مؤمنان دى (په نعيم سره).

**تفسير:** په دغه آيت كښى دا راښوول شوى دى چه هر بنده اګر كه ډير لوى هم وى مستقل اختيار او محيط علم نه لرى، سيد الانبياء محمد مصطفىٰ صلى الله عليه وسلم ته چه د اولينو او آخرينو علومو حامل او د مځكى خزائنو د كليګانو (كنجيانو) امين ګرځولى شوى ؤ د دى خبرى د اعلان كولو حكم شوى دى چه زه نورو ته لا څه چه خپل ځان ته هم څه ګټه (فائده) نشم رسولى او نه ځان له زيان څخه ساتلى شم مګر څومره چه الله تعالىٰ وغواړى هم هغومره زه اقتدار لرم، كه زه پر ګردو (تولو) غيبى خبرو پوهيدى نو ډيرى هغه ښيګنى (فائدۍ) به مى د خپل ځان لپاره حاصلولى چه د غيبى علم د نه لرلو له سببه زياتره فوتيږى او هيڅكله هيڅ يوه نامناسبه واقعه به راته نه پيښيده، مثلاً د «افک» په واقعه كښى د څو ورځو له مخى رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د وحى د نه راتللو له سببه سخت اضطراب او قلق او پريشانى ورپيښه شوه ـ په حجة الوداع كښى ئى صاف وفرمايل
«**لو استقبلت من امرى ما استدبرت لما سقت الهدى** ـ كه زه لا له پخوا پوهيدى په دغه شى باندى چه وروسته راپيښ شو، نو له سره به مى د (هدى) حيوان له ځان سره نه راووست» داسى په سلهاؤ نورى واقعى دى، چه د هغوى مخ نيوى د «محيط علم» د لرلو په صورت په ډيره آسانى سره ممكن ؤ، له دى ګردو (تولو) څخنى لويه او مهمه واقعه دا ده چه د جبريل د حديث په ځينو روايتونو كښى رسول الله مبارک صلى الله عليه وسلم تصريحاً فرمايلى دى چه دغه ړومبنى موقع ده چه ما جبريل عليه السلام د ده د تللو تر وخته پورى ونه پيژانده، كله چه هغه ودريد او لاړ دلته دى وپوهيده چه هغه جبريل عليه السلام ؤ دغه واقعه د محدثينو په تصريح سره بيخى د ده په آخر عمر كښى پيښه شوى ده؛ په دغه حديث كښى د قيامت د سؤال په ځواب كښى «**ماالمسئول عنها باعلم من السائل**» ارشاد فرمايلى شوى دى ـ ګواكى دا ئى ښوولى ده چه «علم المحيط» پرته (علاوه) له الله تعالىٰ څخنى بل هيچا ته نه دى حاصل ـ او علم الغيب خو لا پريږدى؟ د محسوساتو او مبصراتو پوره علم هم د الله تعالىٰ په عطا كولو سره حاصليږى، كه الله تعالىٰ اراده ونه فرمائى نو مونږ د محسوساتو ادراک هم نشو كولى ـ په هر

حال په دغه آیت کښي په ښکاره ډول (طریقه) سره راښوول شوی دی چه مستقل اختیار یا محیط علم د نبوت له لوازمو څخنی نه دی، لکه چه ځینی جاهلان ئی اټکلوی ـ هو! د شرعیاتو علم چه د انبیاؤ علیهم السلام له منصب او وظیفی سره ربط لری، ښائی هغه کامل کړی، او د تکوینیاتو علم په هره اندازه سره چه الله تعالیٰ مناسب وګنی، عطا کوی ئی ـ په دغی نوعی کښي زمونږ پاک رسول محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم له ګردو (ټولو) اولینو او آخرینو څخنی فایق او پورته دی. دوی ته حق تعالیٰ دومره بیشماره علوم او معارف مرحمت فرمایلی دی چه د هغه احصاء او شمار د ټولو مخلوقاتو له طاقته وتلی دی.

---

هُوَ الَّذِىۡ خَلَقَكُمۡ مِّنۡ نَّفۡسٍ وَّاحِدَةٍ وَّجَعَلَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا لِيَسۡكُنَ اِلَيۡهَا‌ۚ فَلَمَّا تَغَشّٰٮهَا حَمَلَتۡ حَمۡلًا خَفِيۡفًا فَمَرَّتۡ بِهٖ‌ۚ فَلَمَّاۤ اَثۡقَلَتۡ دَّعَوَا اللّٰهَ رَبَّهُمَا لَٮِٕنۡ اٰتَيۡتَنَا صَالِحًا لَّنَكُوۡنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِيۡنَ ﴿۱۸۹﴾
فَلَمَّاۤ اٰتٰٮهُمَا صَالِحًا جَعَلَا لَهٗ شُرَكَآءَ فِيۡمَاۤ اٰتٰٮهُمَا‌ۚ فَتَعٰلَى اللّٰهُ عَمَّا يُشۡرِكُوۡنَ ﴿۱۹۰﴾

---

هم دغه (الله) هغه ذات دی چه پیدا کړی ئی یئ تاسی له نفس یوه څخه او پیدا کړی ئی ده له دی نفس څخه ښځه د ده دپاره د دی چه آرام ونیسی له دی سره، نو کله چه نارینه پټه کړه دغه ښځه «یعنی جماع ئی ورسره وکړه» نو حامله شوه په حمل خفیف «سپک سره» نو ګرځیده (تله راتله) به له دی حمل سره، نو کله چه دروند شو حمل نو سؤال وکړ دواړو له الله رب د دوی نه چه قسم دی خامخا که راکړی ته مونږ ته صالح «کامل روغ ولد» نو خامخا شو به مونږ هرومرو (خامخا) له شکر ایستونکو (په دی نعمت) نو کله چه ورکړ «الله» دوی ته صالح «ولد» نو وګرځول دوی دواړو الله ته شریکان په «نامه د» هغه کښي چه ورکړ دوی ته «الله» نو پورته (لوی) دی الله له هغه چه دوی (او اولاده د دوی) ئی شریکوی «له ده سره».

---

**تفسیر:** الله تعالیٰ ګرد (ټول) انسانان له آدم علیه السلام څخه پیدا کړل ـ او د آدم علیه السلام د انس او سکون او د قرار د حصول له پاره ئی د ده له وجوده د ده جوړه حواء رضی الله تعالیٰ

عنها پيدا كره بيا له دوى دواړو ځني نوره اولاده او ځوځات پيدا شول ـ كله چه نارينه له ښځي خپله فطرى غوښتنه حاصله كره نو ښځه حامله شوه. د حمل په ابتدائى حالت كښى هيڅ درونداوالى نه ؤ ـ او حسب المعمول به ښځه تيريده او راتيريده او ناسته ولاړه به ئى كوله ځكه چه تشه نطفه وه كله چه ګيډه ئى د ولد د لوئيدلو په سبب راپورته او شلمه (دکه) شوه نو په دى باندى هيڅوك خبر نه ؤ چه د دى په منځ كښى څه شى پټ دى. آيا انسان دى كه حيوان؟ نو نارينه او ښځى دواړو د حق تعالىٰ په دربار كښى عرض وكړ، كه ته له خپله فضله يو ښه روغ رمټ او د كار وړ (لائق) او صالح وړوكى مولود راعنايت كړى نو مونږ دواړه بلكه زمونږ نسل به هم تول ستا شكر اداء كوو ـ كله چه الله تعالىٰ د دوى دغه تمنا پوره كره نو دوى زمونږ په وركړى شوى شى كښى د نورو د برخو په تاكلو (مقررولو) يى شروع وكره مثلاً ځينى په دى عقيده شول چه دغه اولاد فلانى ژوندى يا مړ مخلوق مونږ ته راكړى دى. ځينى په دى عقيده نه وو خو عملاً به يى د هغه په نذر او نياز شروع وكره يا به يى د مولود وچولى (تندى) د هغه په مخكښى په سجده كيښوده يا به يى په مولود باندى داسى نوم كيښوده چه له هغه څخه به د شرك بوى راته لكه عبد العزىٰ، عبدالشمس او نور، لنده دا چه په دغه صورت كښى به د حقيقى منعم حق اعتقاداً يا فعلاً يا قولاً نورو ته وركول كيده.

ښه وپوهيږئ چه حق تعالىٰ د شرك د ګردو (ټولو) انواعو او مراتبو څخه لوړ او لوى او اعلىٰ دى په دغو آيتونو كښى د حسن بصرى رحمة الله عليه او نورو له رايه سره موافق خاص آدم عليه السلام او حواء رضى الله تعالىٰ عنها مقصود نه دى بلكه د عامو انسانانو د حالت نقشه ايستلى شوى ده بيشكه ابتداء په ﴿ هُوَالَّذِىْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا ﴾ كښى د تمهيد په دول (طريقه) د آدم عليه السلام او حواء رضى الله تعالىٰ عنها ذكر ؤ ـ مګر له هغه وروسته د مطلق نر او ښځى ذكر شوى دى، او داسى په ډيرو ځايونو كښى كيږى چه د شخص له ذكره د جنس په لورى انتقال مرادوى لكه په ﴿ وَلَقَدْ زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيْحَ وَجَعَلْنٰهَا رُجُوْمًا لِّلشَّيٰطِيْنِ ﴾ كښى هغه ستورى چه په ﴿ بِمَصَابِيْحَ ﴾ سره ياد شوى دى، هغوى لويدونكى ماتيدونكى ستورى نه دى، چه په هغو د شياطينو ويشتل په عمل راځى مګر له شخص د ﴿ بِمَصَابِيْحَ ﴾ څخه جنس مصابيح ته د كلام انتقال كړى شوى دى ـ له دى تفسير سره موافق په ﴿ جَعَلَا لَهٗ شُرَكَآءَ ﴾ كښى هيڅ اشكال نشته مګر له زياترو اسلافو ځنى هم دغه منقول شوى دى چه په دغو آيتونو كښى يوازى د آدم عليه السلام او حواء رضى الله تعالىٰ عنها د قصى بيان شوى دى، وائى چه ابليس د يوه نيك مخلوق په صورت حواء رضى الله تعالىٰ عنها ته راغى او دا ئى تير ايستله او وعده ئى ترى واخيسته چه كه ترى هلك پيدا شو، د هغه نوم دى عبدالحارث كيږدى، بى بى حواء رضى الله تعالىٰ عنها آدم عليه السلام هم راضى كړ ـ نو كله چه هلك پيدا شو نوم ئى عبدالحارث كيښود حارث د ابليس هغه نوم ؤ چه په ملائكو كښى په دغه نامه سره بلل كيده. ظاهره ده چه د اعلامو په تعيين كښى لغوى معنى نه ده معتبره ـ او كه وى هم خو د «عبد» اضافت د «حارث» په لورى د دى خبرى مستلزم نه دى چه «حارث» معاذ الله معبود

گڼلي شوی دی یوه میلمه پالونکی انسان ته عرب «عبدالضیف ـ د میلمه بنده» وائی د هغه مطلب داسی له سره نه وی چه ګواکی کور والا د میلمه عبادت کوی، نو که د عبدالحارث د نامه ایښودلو دغه واقعه صحیح هم وی نو نشی ویلی کیدی چه آدم علیه السلام معاذ الله په حقیقت کښی د شرک ارتکاب کړی دی، چه دا کار د انبیاؤ علیهم السلام له شان او عصمت سره منافی دی ـ هو! په مولود باندی دغسی ناموزونه نوم کیښودل چه له هغه ځنی په سطحی ډول (طریقه) سره د شرک بوی راشی ـ د معصوم نبی له رفیع شان او د توحید له جنبی سره مناسب نه ؤ. د قرآن عظیم دغه عادت دی چه د مقربینو انبیاؤ خورا (دیر) لږ لغزیدل او ښوئیدل او دیر کوچنی (وړوکی) ذلت د(حسنات الابرار سیئات المقربین) د قاعدی سره مطابق زیاتره په سخت عنوان سره تعبیروی لکه چه د یونس علیه السلام په قصه کښی ئی فرمایلی دی
﴿ فَظَنَّ اَنْ لَّنْ نَّقْدِرَ عَلَيْهِ ﴾ او په بل ځای کښی ئی فرمایلی دی ﴿ حَتّٰۤى اِذَا اسْتَيْـَٔسَ الرُّسُلُ وَظَنُّوْۤا اَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُوْا ﴾ علیٰ توجیه بعض المفسرین هم داسی دلته هم د آدم علیه السلام د رتبی له لحاظه دغه د شرک موهومه «وهم آچوونکی» تسمیه ئی تغلیظاً په دغو الفاظو سره ادا وفرمایله ﴿ جَعَلَا لَهٗ شُرَكَآءَ فِيْمَاۤ اٰتٰىهُمَا ﴾ د الله تعالیٰ په ورکړی شوی شی کښی د حصی په بیلولو پسی وګرځیدل، یعنی د دوی له شانه سره لائق او مناسب نه ؤ چه داسی نوم کیږدی چه د هغه ځخه شرک وهم کیږی، اګر که حقیقتاً شرک نه دی. ښائی د هم دی لامله (له وجی) ئی «فقد اشركا» او نور مختصر عبارتونه ئی پریښودل او هغه د ﴿ جَعَلَا لَهٗ شُرَكَآءَ فِيْمَاۤ اٰتٰىهُمَا ﴾ طویل عنوان ئی اختیار وفرمایه ـ والله اعلم.

**تنبیه:** حافظ عماد الدین ابن کثیر رحمة الله علیه ویلی دی چه د عبد الحارث د نامه کیښودلو هغه مرفوع حدیث چه په (ترمذی) کښی دی، هغه د دری جهته معلول دی، پاتی شو آثار هغه د اهل الکتاب له روایتونو ځنی ماخوذ دی والله اعلم.

---

اَیُشْرِكُوْنَ مَا لَا یَخْلُقُ شَیْـًٔا وَّهُمْ یُخْلَقُوْنَ ﴿١٩١﴾

---

آیا شریک ګرځوی دوی «له الله سره» هغه شی چه نشی پیدا کولی هیڅ خیز حال دا چه دغه (بتان) پیدا کاوه شی «نو څرنګه به خالق د بل چا شی»

---

**تفسیر:** پخوا له دی نه د یوه راز (قسم) شرک ذکر ؤ د هغه په مناسبت په دغو آیتونو کښی د بت پرستی تردید کوی یعنی هغه چه بل نشی پیدا کولی، بلکه پخپله ستاسی له لوری جوړ شوی دی هغه ستاسی معبود څرنګه کیدی شی؟

---

وَلَا یَسْتَطِیْعُوْنَ لَهُمْ نَصْرًا وَّلَاۤ اَنْفُسَهُمْ یَنْصُرُوْنَ ﴿١٩٢﴾ وَاِنْ

تَدْعُوهُمْ إِلَى الْهُدَىٰ لَا يَتَّبِعُوكُمْ ۚ سَوَاءٌ عَلَيْكُمْ أَدَعَوْتُمُوهُمْ
أَمْ أَنتُمْ صَامِتُونَ ﴿١٩٣﴾ إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ
عِبَادٌ أَمْثَالُكُمْ ۖ فَادْعُوهُمْ فَلْيَسْتَجِيبُوا لَكُمْ إِن كُنتُمْ
صَادِقِينَ ﴿١٩٤﴾ أَلَهُمْ أَرْجُلٌ يَمْشُونَ بِهَا ۖ أَمْ لَهُمْ أَيْدٍ يَبْطِشُونَ
بِهَا ۖ أَمْ لَهُمْ أَعْيُنٌ يُبْصِرُونَ بِهَا ۖ أَمْ لَهُمْ آذَانٌ يَسْمَعُونَ
بِهَا ۗ قُلِ ادْعُوا شُرَكَاءَكُمْ ثُمَّ كِيدُونِ فَلَا تُنظِرُونِ ﴿١٩٥﴾

*او طاقت نه لری دا «بتان» له پاره د دغو «عابدانو خپلو» د مرستی کولو* او نه له ځانونو خپلو سره مرسته (مدد) کولی شی او که تاسی رابولئ دوی سمی صافی لاری ته نو نه کوی متابعت دوی ستاسی برابره ده پر تاسی «دغه خبره» چه آیا بولئ تاسی «دوی» او که یئ تاسی چپ «د دوی له بلنی څخه» بیشکه هغه کسان چه عبادت کوئ تاسی (ای مشرکانو! د دوی او بولئ یی) بی له الله مملوکان دی په شان ستاسی نو وبولئ تاسی دوی نو ودی منی دوی «دغه بلنه» ستاسی که یئ تاسی صاد قان «رښتینی په دغه دعوی کښی چه دوی خدایان دی» آیا شته دوی ته «داسی» پښی چه تلل کوی دوی په هغو سره؟ آیا شته دوی ته «داسی» لاسونه چه نیول کوی دوی په هغو سره؟ آیا شته دوی ته «داسی» سترګی چه لیدل کوی دوی په هغو سره؟ آیا شته دوی ته (داسی) غوږونه چه آوریدل کوی دوی په هغو سره «بلکه دا شیان دوی لره نشته پس له تاسی څخه هم بدتر شول نو تاسی څنګه د دوی عبادت کوئ» ووایه «ای محمده! دوی ته» چه را وبولئ تاسی شریکان خپل (د امداد له پاره) بیا «په خپلو تدبیرونو سره» ضرر ورسوئ ماته پس مهلت مه راکوئ تاسی ماته (هیڅ قدر).

**تفسیر:** هغه بتان چه تاسی خپل معبودان ګرځولی دی، او د خدائی حق تاسی هغوی ته ورکړی دی. هغوی ستاسی په څه کار درځی؟ دوی د خپلو ځانونو په حفاظت باندی هم قادر نه دی. او د مخلوقیت سره سره له هغو کمالاتو څنی هم محروم دی چه په هغو سره یو مخلوق پر بل مخلوق باندی تفوق او امتیاز حاصلولی شی. اګر که د دوی ظاهری لاسونه او پښی او سترګی او نور

تاسي جوړ کړي دي، ليکن د دوی په اعضاؤ کښې هغه قوتونه نشته چه د هغو په سبب هغو اعضاؤ ته، اعضاء وويلی شی، او نه ستاسي په بللو سره په خپلو مصنوعی پښو راتلی شی، او نه په خپلو لاسونو سره کوم شي اخيستی شی، نه په خپلو سترگو سره کوم شي ليدلی شی، نه پخپلو غوږونو سره کومه خبره اوريدلی شی، که له ديرو بللو او غږونو څخه ستاسي ستونی څيری هم شي، خو بيا هم دوی ستاسي د غږ اوريدونکی نه دی او پری له سره درتلونکی يا ځواب درکوونکی نه دی. تاسي د دوی په مخ کښې په زوره زوره دوی وبولئ! يا په ورو ورو ورناری کړئ! يا ساکت او چپ اوسئ؟ دغه دری واړه حالتونه دوی ته برابر دی. نه له دی نه کومه فائده او نه ورڅخه کومه نفعه متصوره ده. تعجب دی چه دوی په مملوکيت او مخلوقيت کښې ستاسي په شان عاجز او درمانده دی، بلکه په وجود، او د وجود په کمالاتو کښې هم ستاسي څنی ښکته او دير وروسته پاتی دی، نو دوی به څرنگه خدايان وگرځولی شی؟ او هر هغه څوک چه ترديد ئی وکړی ولی به نقصان ووينی؟ لکه چه د مکی معظمی مشرکانو زمونږ نبی کريم صلی الله عليه وسلم ته ويل چه تاسي زمونږ د بتانو له بی ادبی څخه لاس واخلئ! که نه تاسي ته دی معلومه وی چه دوی به څه آفت او بلا پر تاسي نازله کړی ﴿ وَيُخَوِّفُونَكَ بِالَّذِينَ مِن دُونِهِ ﴾ (۲٤ جزء د الزمر ۳٦ آيت ٤ رکوع) د دغه ځواب په ﴿ وَقِيلَ ادْعُوا شُرَكَاءَكُمْ ﴾ سره ورکړی شوی دی. يعنی تاسي خپل گرد (تول) شريکان راوبولئ! او زما په خلاف گردی (تولی) حيلی، پلمی (بهانی) او تدابير وکړئ! او پوره ئی کړئ! بيا ماته د يوی شيبی له پاره هم مهلت مه راکوئ؟ نو وبه گورم چه تاسي ماته څه ضرر رسولی شئ؟ زه ستاسي او ستاسي د معبودانو پروا نه لرم ځکه چه

إِنَّ وَلِيِّيَ اللَّهُ الَّذِي نَزَّلَ الْكِتَابَ ۖ وَهُوَ يَتَوَلَّى الصَّالِحِينَ ﴿١٩٦﴾

بيشکه ولی «ناصر او ساتونکی» می الله دی هغه چه توته توته ئی نازل کړی دی کتاب او هم دغه «الله حمايت» ساتنه کوی د صالحانو (او کارونه يې جوړوی).

**تفسير:** يعنی هغه الله جل جلاله زما ولی ـ بادار او مرستيال دی چه پر ما باندی ئی وار په وار کتاب (قرآن) نازل کړی دی. او د رسالت پر منصب باندی ئی فائز کړی يم. هم دغه پاک الله به زما حمايت، حفاظت او صيانت د گردی (تولی) دنيا په مقابل کښې وکړی، ځکه چه هم دغه الله تعالیٰ د خپلو نيکو بندگانو حفاظت او اعانت کوی، بالخاصه د انبياؤ عليهم السلام.

وَالَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِهِ لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَكُمْ وَلَا

أَنفُسَهُمْ يَنصُرُونَ ﴿۱۹۷﴾ وَإِن تَدْعُوهُمْ إِلَى الْهُدَىٰ لَا يَسْمَعُوا ۖ وَتَرَاهُمْ يَنظُرُونَ إِلَيْكَ وَهُمْ لَا يُبْصِرُونَ ﴿۱۹۸﴾

او «بيشكه» هغه «معبودان» چه ئى بولئ تاسى بى له الله طاقت نه لرى دوى د نصرت «مرستي كولو» ستاسى او نه د ځانونو خپلو سره مرسته (مدد) كولی شي «نو زه يى څه پروا لرم» او كه راوبولئ تاسى دوى په جانب د هدايت (د سمى صافى لارى) نو هيڅ نه اورى دوى او وينى به ته «اى محمده !» دوى چه گورى به دوى تا ته حال دا چه دوى به هيڅ نه وينى.

**تفسير:** يعني په ښكاره سره دوى د ستر گو خاوندان دى، خو په كښى د ليدلو قوت او د كتلو قدرت او د بينائى نور او د بصارت ظهور چيرى دى؟

(د ﴿ تَدْعُوهُمْ ﴾ فاعل كه مشركين شي نو د ﴿هُم﴾ ضمير بتانو ته راجع كيږى يعني كه وبولئ تاسى اى مشركانو دا بتان ښو كارو ته نو دوى نه اورى او كه د ﴿ تَدْعُوهُمْ ﴾ فاعل مؤمنين شي نو د﴿هُم﴾ ضمير مشركانو ته راجع كيږى يعني كه وبولئ تاسى اى مؤمنانو دا مشركان ښو كارو ته نو دوى ستاسى بلنه نه منى).

خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ ﴿۱۹۹﴾ وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَانِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ ۚ إِنَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿۲۰۰﴾

ونيسه «اى محمده ! عادت د» عفوى كولو او امر «حكم» وكړه په معروف (نيكو كارونو) سره او مخ وگرځوه ! «په څنگ شه!» له جاهلانو «ناپوهانو ليونيانو» څخه. او كه باعث او تيز كړى تا «په معصيت» له طرفه د شيطان كومه وسوسه نو پناه وغواړه په الله پورى بيشكه دغه «الله» ښه اوريدونكى ښه عالم دى (د تولو اقوالو په گردو (تولو) احوالو).

**تفسير:** د ﴿ خُذِ الْعَفْوَ ﴾ څو معناگانى شوى دى. د زياترو حاصل دا دى چه له سختگيرى او تند خوئى ځنى پرهيز وكړه د مؤمنانو په مقابل كښى څو د قهر او غضب له امله (وجى) دوى درڅخه تار پتار نشى او محقق شيخ الهند رحمة الله عليه هم دغه معنا د «عفوى په عادت نيولو» سره تعبير كړى ده. په تيرو آيتونو كښى د بت پرستانو كوم تحميق او تجهيل چه كړى شوى ؤ. دير ممكن ؤ چه جاهلان مشركان په هغه په قهر شي او نامناسب حركات وكړى ـ يا خراب

الفاظ له خپلو خولو څخه وباسی. نو ځکه الله جل جلاله په دغه آیت سره چه د مکارم الاخلاق جامع دی خپل پاک رسول ته هدایت وفرمایه چه ای محمده صلی الله علیه وسلم د عفوی او له خطاؤ ځنی د تیریدلو عادت ونیسه! او له پند ورکولو څخه خوله مه نیسه! او تل خپلی معقولی خبری کوه! او له جاهلانو څخه په څنګ شه! یعنی د دوی د جاهلانه حرکاتو له کبله (وجی) هره ورځ دوی سره لاس او ګریوان کیدلو ته ضرورت نشته کله چه وخت ئی راشی، نو په لږ وخت کښی به د دوی ګرد (تول) حساب او کتاب پای (اخر) ته ورسیږی. که کوم وخت د بشریت په مقتضاء د دوی پر کوم نالائق حرکت په قهر شی، او لعین شیطان وغواړی چه له لری څخه تاسی داسی یوی معاملی او کار ته آماده او تیار کړی چه له مصلحت نه مخالف وی یا ستاسی له عظیم خلق او حلم او متانت سره لائق او وړ (قابل) نه وی، نو ته فوراً په الله تعالیٰ سره پناه وغواړه! له دی وسوسی څخه ستاسی د عصمت او وجاهت په مقابل کښی د هغه هیڅ یو کید مکر او چل نشی چلیدلی ـ ځکه قدیر خدای جل جلاله چه د هر مستعیذ د خبرو (سمیع) اوریدونکی، او په هر حالت «علیم» پوهیدونکی دی، هم ده ستاسی د صیانت تکفل کړی دی. ځینی د دی آیت ترجمه داسی هم کوی واخله ای محمده! د غنیانو هغه زیاتی مالونه او هغه چه آسان وی دوی ته او دا حکم د زکوٰة له وجوب څخه پخوا ؤ او امر وکړه خلقو ته په نیکی سره او مخ وګرځوه له ناپوهانو او مه کوه ورسره جنګ او دا اعراض هم د جهاد له فرضیت څخه پخوا ؤ او که ورسیږی تاته ای محمده! له طرفه د شیطانه څه وسوسه چه په جګړه کښی دی واچوی له جاهلانو سره پس پناه ونیسه په الله سره چه درڅخه دفع کړی هغه وسوسه الخ.

---

إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟ إِذَا مَسَّهُمْ طَٰٓئِفٌ مِّنَ ٱلشَّيْطَٰنِ تَذَكَّرُوا۟ فَإِذَا هُم
مُّبْصِرُونَ ﴿٢٠١﴾ وَإِخْوَٰنُهُمْ يَمُدُّونَهُمْ فِى ٱلْغَىِّ ثُمَّ لَا يُقْصِرُونَ ﴿٢٠٢﴾

---

بیشکه هغه کسان چه ویریږی (له الله او ځان ساتی له ګناه) کله چه ورسیږی دوی ته کومه وسوسه «او ګذر» له طرفه د شیطانه، نو یاد کاندی دوی (حکم د الله او ویښ شی) پس ناڅاپه دوی لیدونکی وی (د حق) او ورونه د دوی (چه شیطانان دی) راکاږی «چلوی» دغه «کفار» په ګمراهی کښی بیا نه کوی دوی تقصیر (له ښویولو د کفارو یا کفار تقصیر نه کوی په متابعت د شیاطینو کښی).

---

**تفسیر:** اګر که د استعاذی حکم ګردو (تولو) لره شامل دی خو خطاب ړومبی یواځی رسول

اکرم صلی الله علیه وسلم ته ؤ اوس د عامو متقیانو او د ګردو (ټولو) پرهیزګارانو د حال بیان فرمائی یعنی د عامو متقیانو په حق کښی دغه محال نه دی چه، د شیطان ګذر د هغوی په لوری وشی، او خپله کومه وسوسه د هغوی په زړونو کښی واچوی هو! د متقیانو شان داسی وی، چه د شیطان له اغواء او تیر ایستلو څخه تل په غفلت کښی نه پاتی کیږی بلکه که لږ څه غفلت ورپیښ شی دستی پاک الله یادوی، ویښ او په سد کیږی، که ولغزی نو سم د لاسه ځان نیسی! او هم دا چه ځان ئی سنبال کړ سترګی ئی خلاصیږی، او د غفلت پرده ئی له مخی څخه لری کیږی، د نیکی او د بدی پای (اخر) او انجام ئی سترګو ته دریږی، او ډیر ژر د نامناسبو کارو له کولو څخه مخ آړوی. باقی د غیر متقیانو چه د دوی په زړو کښی د الله تعالیٰ ویره نه وی او خپل ځان له ګناهونو څخه نه ساتی، او ښائی دوی ته د شیطان ورونه وویل شی د دوی حال دا دی چه شیطان تل دوی د ګمراهی په لوری کشوی او وربښائسته کوی یی او د دوی په تیر ایستلو کښی هیڅ قصور او کمی نه کوی. له بل لوری دغه خلق هم د دوی په اقتداء او پیروی کښی هم لږ څه کمی او تقصیر نه کوی. او د دی لامله (له وجی) دغه شیاطین د دوی غرور او سرکشی لا زیاتوی، په هر حال د متقی شان دا دی چه کله ئی شیطان خپه او متأثر کړی فوراً له پاک الله څخنی پناه غواړی ـ که نه په اوږده غفلت کښی لویږی او د رجوع الی الله توفیق ورته نه پاتی کیږی.

---

وَإِذَا لَمْ تَأْتِهِم بِآيَةٍ قَالُوا لَوْلَا اجْتَبَيْتَهَا ۚ قُلْ إِنَّمَا أَتَّبِعُ مَا يُوحَىٰ إِلَيَّ مِن رَّبِّي ۚ هَٰذَا بَصَائِرُ مِن رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٢٠٣﴾

---

او تر هغه وخته پوری چه رانه وړی «ته ای محمده!» دوی ته کومه معجزه «چه دوی ئی غواړی نو» وائی دوی ولی دی (له خپله ځانه) غوره (جوړه) نه کړه داسی معجزه؟ نو ووایه بیشکه هم دا خبره ده چه زه متابعت کوم د هغه څه چه وحی کولی شی ماته له طرفه د رب زما (او زه نه یم راوړونکی د معجزی له خپله ځانه)، دغه «قرآن ټول دلائل د» پوهنی دی له «جانبه د» رب ستاسی او هدایت او رحمت دی له پاره د (هغه) قوم چه مؤمنان دی دوی.

---

**تفسیر:** کله چه به د وحی په نزول کښی تاخیر پیښیده، نو کفارو به تمسخراً ویل چه «اوس ته ولی کوم آیت له خپله ځانه نه جوړوی؟ او نه ئی راوړی؟ آخر ګرد (ټول) قرآن خو هم دا تا جوړ کړی دی» العیاذ بالله! هم داسی به دوی کله د خپه کولو له پاره داسی معجزی غوښتلی چه

د هغوی په ښوولو کښې به د الله تعالیٰ د حکمت اقتضاء نه وه. کله به چه رسول صلی الله علیه وسلم د هغو له ورښکاره کولو څخه انکار کاوه نو داسی به ئی ویل چه ﴿لَوۡلَا اجۡتَبَيۡتَهَا﴾ یعنی له خپل الله څخه زمونږ غوښتلی شوی معجزی ولی نه غواړی؟ او ولی ئی نه غوره کوی او نه یی راوړی؟ د دغو دواړو خبرو په ځواب کښې ئی وفرمایل ﴿قُلۡ اِنَّمَآ اَتَّبِعُ مَا يُوۡحٰٓى اِلَىَّ مِنۡ رَّبِّىۡ﴾ یعنی ووایه کفارو ته ای محمده! چه «د نبی کار دا نه دی چه له خپل لوری په الله تعالیٰ باندی افتراء وکړی. یا د خلقو په ویلو او اورولو سره کوم کار ته اقدام وکړی او له الله تعالیٰ څخه هسی شی وغواړی چه د هغه وجود د الله تعالیٰ له حکمت سره منافی وی. یا د هغه د غوښتلو اجازه نه وی» د نبی وظیفه یوازی هم دغه ده چه هر هغه شی چه الله تعالیٰ په وحی سره نازلوی قبول ئی کړی. او پری ټګ او عمل وکړی. او نورو ته هم پر هغه باندی د عمل کولو دعوت ورکړی. باقی هغه تنزیلی او تکوینی آیتونه چه تاسو ئی له ما څخنی غواړئ، نو کوم آیت او معجزه به له پاک قرآن څخنی لویه او لوړه وی؟ ځکه چه دغه عظیم الشانه معجزه د ګرد (تول) جهان له پاره د بصیرت زیاتوونکو حقائقو او مواعظو خزانه ده! او ایمان راوړونکو ته د یوه خاص قسم هدایت او رحمت ذخیره منځ کښې لری. تاسی دغه عظیم الشان قرآن کله ومانه! چه بیا به هغه فرمائشی معجزه ومنئ؟

---

## وَاِذَا قُرِئَ الۡقُرۡاٰنُ فَاسۡتَمِعُوۡا لَهٗ وَاَنۡصِتُوۡا لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُوۡنَ ﴿۲۰۴﴾

---

او کله چه ولوستلی شی قرآن نو غوږ کیږدئ تاسی هغه ته او چپ اوسئ تاسی له پاره د دی چه رحم درباندی وشی.

---

**تفسیر:** کله چه قرآن کریم داسی بی بها دولت او د علم او هدایت کان او ثروت دی نو د هغه د قرائت حق پر سامعینو باندی دا دی چه په پوره فکر او توجه سره دی ورته غوږ کیږدی! او د هغه آیتونه او هدایات دی د قبول په غوږ سره واوری او نوری هر قسم خبری اتری، شور ماشور او ذکر او فکر دی پریږدی! او په ډیر ادب او احترام سره دی ورته چپ او قرار اوسی څو د الله تعالیٰ د رحمت او مهربانی وړ (لائق) او مستحق شی. که کافر په هم دغه ترتیب سره پاک قرآن واوری، نو ډیر لری نه ده چه د الله تعالیٰ په رحمت سره به په ایمان مشرف شی، او که له پخوا څخنی مسلمان وی د ولایت په مرتبه رسیږی، یا اقلاً د دغه فعل په اجر او ثواب سره خوشالیږی. له دغه آیت څخنی ډیرو علماؤ دا مسئله ایستلی ده چه په لمانځه کښې څه وخت چه امام قرائت لولی نو ښائی چه مقتدیان ئی په دقت سره واوری! او قرار چپ دی ورته ودریږی! لکه چه د ابو موسیٰ او ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنهما په حدیث کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی «**إذاقرأ فانصتوا** - کله چه امام په لمانځه کښې قرئت لولی نو تاسی چپ اوسئ» دلته د دغی مسئلی د تفصیل ځای نه دی. د صحیح مسلم په شرح کښې مونږ په ډیر تفصیل او شرح او بسط

سره د دی مسئلی پر «ما له» او «ما علیه» باندی بحث کړی دی.

وَاذْكُرْ رَّبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَّخِيفَةً وَّدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ وَلَا تَكُنْ مِّنَ الْغَافِلِينَ ﴿٢٠٥﴾

او یادوه ته (ای بنده!) رب خپل په زړه خپل کښی په زاری او ویری سره او کم له هسکه (وچته) غږه له وینا په ړومبنیو برخو د سبا کښی او په وروستنیو برخو د بیګا کښی او مه کیږه (ای زما بنده) له غافلانو (بی خبرانو!)

**تفسیر:** لوی ذکر خو عظیم الشان قرآن دی، چه د هغه د ادب بیان اوس تیر شو. په دغه آیت کښی د «ذکرالله» څه آداب په عمومی توګه (طریقه) بیان فرمائی یعنی د «ذکرالله» اصلی روح هم دا دی هغه شی چه په ژبه ویل کیږی د زړه توجه دی هم د هغه په لوری وی، څو د (ذکرالله) پوره خوند او نفع ظاهره شی او ژبه او زړه دواړه د الله تعالیٰ په یاد کښی مشغول شی، د ذکر په وخت کښی ښائی چه په فکر کښی دقت او په زړه کښی رقت وی او په صحیح رغبت، مینه او رهبت (ویره) سره د الله تعالیٰ په یاد کښی مشغول او لګیا شی! او داسی وضعیت او هیئت دی خپل ځان ته غوره کړی لکه چه کوم ویریدونکی خوشامند کوونکی انسان یو لوی بی مثله ذات ته عرض او فریاد کوی. ښائی چه د ذاکر په لهجه، غږ او هیئت کښی دی د تضرع او ویری او خوف اثر او رنګ محسوس وی د ذکر او مذکور، له عظمت او جلاله د غږ ورو کیدل یو طبیعی او قدرتی امر دی ﴿ وَخَشَعَتِ الْأَصْوَاتُ لِلرَّحْمَٰنِ فَلَا تَسْمَعُ إِلَّا هَمْسًا ﴾ (۱۶ جزء د طٰهٰ سورت ۱۰۸ آیت ۶ رکوع) نو ځکه له په زوره ذکر کولو څخه ممانعت راغلی دی. که په ورو غږ او توجه سره په خفیه یا په جهر سره د الله تعالیٰ ذکر وکړی نو الله تعالیٰ به هم د هغه ذکر کوی. نو عاشق ته به له دی نه زیاته نیکمرغی او سعادت څه وی؟

إِنَّ الَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ لَا يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِهِ وَيُسَبِّحُونَهُ وَلَهُ يَسْجُدُونَ ﴿٢٠٦﴾ السجدة

بیشکه هغه «ملائکی» چه په نزد د رب ستا کښی «مقربی» دی نه کوی تکبر (لوئی) دوی له عبادت د دغه (الله) څخه او پاکی وائی په هر وخت د

دغه (الله) او خاص هم دغه الله ته سجدی کوی.

**تفسیر:** یعنی شپه او ورځ مخصوصاً د سبا او بیگا په اوقاتو کښې د الله تعالیٰ له یاده مه غافل کیږئ! کله چه مقربی ملائکی د الله تعالیٰ له بندگی څخنی عار نه کوی، بلکه همیشه د الله جل جلاله په یادولو او ذکر کولو کښې لگیا او مشغولی دی او هم دغه رب العٰلمین ته سجدی کوی، نو انسانانو ته لا ضروری ده چه د اله العٰلمین جل جلاله له ذکر او فکر، او عبادت او ریاضت، سجود او وجود څخه غافل نشی! بنا پر دی د دی آیتونو له لوستلو څخه وروسته ښائی چه د تلاوت سجده هم وکره شی!.

## (تمت سورة (الاعراف) بفضل الله ذی الالطاف والاعطاف ونسأله لاحيائنا الاتفاق والايلاف ولامواتنا المغفرة والاعفاف اللهم جنبنا الاختلاف والاعتساف وارزقنا حسن الانصاف ونعم الاوصاف ياغافر الاسلاف وهادی الاخلاف!)

سورة (الانفال) مدنية الا من آية (٣٠) الی غاية آية «٣٦» فمكية وهی «٧٥» آية.
و«١٠» ركوعات رقمها «٨» تسلسلهاحسب النزول «٨٨» نزلت بعد البقرة.

د «الانفال» سورت مدنی دی پرته (علاوه) له «٣٠» آیت څخه د (٣٦) آیت تر آخره پوری. چه مکی دی. (٧٥) آیتونه او «١٠» رکوع لری، په تلاوت کښې (٨) او په نزول کښې «٨٨» سورت دی د(البقرة) له سورت څخه وروسته نازل شوی دی.

دغه سورت د «بدر» له غزا څخه وروسته په مدینی منوری کښې نازل شوی دی هغه دردناک او له طاقت نه پورته مظالم چه د مکی معظمی مشرکانو د دیارلسو کلونو په موده کښې د مسلمانانو پر وړوکی جماعت وکړل، او مظلومو مسلمانانو چه خاص د خدای له پاره په صمیمیت، صبر، استقامت او معجز ډوله استقلال او ثبات او عشق او محبت سره تر مسلسلو دیارلسو کلونو پوری د دغو هولناکو مصائبو او دردناکو نوائبو تحمل وکړ، هغه د دنیا په تاریخ کښې یوه بیمثاله واقعه ده. قریشو د خپلو نورو ملگرو په اتفاق د ظلم او تیری هیڅ یوه لوبه او چاره پری نه ښوده. او گردی (تولی) ئی پر مسلمانانو باندی اجراء کړی. خو سره د هغه الله تعالیٰ مسلمانانو ته اجازه ورنه کړه، چه د دی وحشی ظالمانو په مقابل کښې لاس پورته کړی. د صبر، تحمل، او د ابتلاء او امتحان آخری حد دغه ؤ چه مسلمانان خپل مقدس وطن، اقارب، عزیزان، خپلوان، اهل، عیال، کور، کهول مال، منال، دولت، ثروت، تجارت صنعت او نور گرد (تول) دنیوی شیان هم پریږدی، او خاص د الله تعالیٰ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خوښی او رضاء له پاره فی سبیل الله له خپلو کورونو څخنی هم ووځی. کله چه د مشرکانو ظلم او تکبر او د مسلمانانو مظلومیت او بیکسی له حده تیره شوه، او له بل لوری د اهل الایمان زړونه له وطن، قوم، ښځی، وړوکی، مال، دولت، او له «ماسوی الله» څخنی له گردو (تولو) نورو دنیوی تعلقاتو

ځنی تش او پاک شول. او یوازی د الله جل وعلا او د پاک رسول الله صلی الله علیه وسلم له محبته او د اخلاص او د توحید له دولته داسی ډک شول چه گواکی د غیر الله ځای په هغو کښی له سره پاتی نشو؛ نو دلته دغو مظلومانو ته (چه پوره دیارلس کاله یی د کفارو هر راز (قسم) حملی او ربړونه (تکلیفونه) وگالل (برداشت کړل) ـ او د وطن له پرېښوولو او هجرت سره یی هم امن او هوسائی (آرام) حاصله نشوه کړی) اجازه وشوه چه له هغو ظالمانو سره جهاد وکړی او خپل بدل او کسات تری واخلی

﴿ أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ ۝ الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِم بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّا أَن يَقُولُوا رَبُّنَا اللَّهُ ﴾ (۱۷ جزء د الحج ۳۹، ٤٠ آیت ٦ رکوع) اذن ورکړی شوی دی هغو کسانو ته چه جنگ ورسره کولی شی په دی چه بیشکه پر دوی ظلم کړی شوی دی، او بیشکه چه الله په نصرت د دوی باندی خامخا ښه قادر دی. دوی هغه کسان دی چه ایستلی شوی دی له کورونو خپلو څخه په ناحقه مگر چه ووائی رب زمونږ الله دی) د مکی معظمی ادب او حرمت د دی خبری مانع ؤ چه مسلمانان لومړی په هغه ځای هجوم او یرغل (حمله) وروړی. نو ځکه له هجرته وروسته تقریباً تر یوه نیم کاله پوری د مسلمانانو د عمل طرز داسی ؤ چه د مکی معظمی د مشرکانو هغو تجارتی روابطو او سلسلو ته چه له شام، یمن او نورو هیوادونو سره قائمی وی ماتی ورکولی، چه د هغو په وسیله د ظالمانو اقتصادی حالت کمزور او د مسلمانانو مالی وضعیت پیاوړی شی. د هجرت په لومبنی کال کښی د «ابواء، بواط، عشیره» غزاگانی او نوری وړی وړی غزاگانی او سرایا چه د هغو تفصیلات د احادیثو او سیرو په کتابونو کښی شته په هم دغی سلسلی کښی واقع شوی. د هجرت په دوهم کال کښی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته معلومه شوه چه یوه لویه تجارتی قافله د ابو سفیان په مشری له شام څخه رهی (روانه) شوی ده. د ابوسفیان دغه تجارتی قافله «جویه» چه په هغی کښی تقریباً «٦٠» تنه قریش او یو زر اوښان او پنځوس زره دیناره مال ؤ کله چه له شام ځنی د مکی معظمی په لوری د کاروان د بیرته راگرځیدلو خبر نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته ورسید نو د صحیح مسلم له یوه روایت سره سم رسول الله مبارک له اصحابو سره مشوره وکړه چه آیا پر دغه جماعت باندی تعرض وکړو؟ د طبری رحمة الله علیه له بیانه سره موافق ډیرو کسانو له دغه جنگه خپل ځانونه بیرته کړل ځکه چه دوی د لوی جنگ له پیښیدلو څخه په اندیښنه او په خطره کښی نه وو چه ښائی د هغه له پاره لویه اجتماع او ښه اهتمام وکړ شی. بل د انصارو په نسبت عموماً داسی خیال کیده چه دوی له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د نصرت او حمایت معاهده یوازی په هغه صورت کښی کړی وه چه که کوم قوم پر مدینی منوری باندی حمله او یرغل وکړی ـ یا تاسی ته لاس درواچوی، نو مونږ به له تاسی سره امداد او مرسته (مدد) کوو. د جنگ د شروع او تعرض خبره اعم له دی چه په هر صورت سره وه، په دغه معاهده کښی شامله نه وه، د دغی جرگی د دی وضعیت له لیدلو ځنی ابوبکر الصدیق او عمر الفاروق او رئیس الانصار سعد بن عبادة رضی الله تعالیٰ عنهم اجمعین حوصله زیاتوونکی خطبی وویلی او ښی ویناوی ئی وکړی. بالاخر رسول اکرم صلی الله علیه وآله وصحبه وسلم له دری

سوو او څو تنو مجاهدینو سره د قافلې په لوری رهی (روان) شول. څرنګه چه له کوم لوی مسلح لښکر سره د جنګیدلو توقع نه وه، نو ځکه د جمعیت ـ سامان، اسلحې او د نورو شیانو په نسبت زیات اهتمام نه ؤ کړی شوی. هغه کسان چه په هماغه وخت کښې سره تول شوی وو له خپلو همغو معمولی سامانونو سره رهی (روان) شوی وو. په دې باره کښې د بخاری شریف په روایت کښې حضرت کعب بن مالک رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی هغه کسان چه د بدر په غزا کښې شریک شوی نه وو پر هغوی باندی کوم عتاب نازل نشو، ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یوازی د تجارتی قافلې د مهم له پاره وتلی وو. اتفاقاً الله تعالیٰ د یوه اساسی جنګ صورت ورپیدا کړ.

ابو سفیان د رسول الله مبارک له دغی ارادی ځنی خبر شو او سم د لاسه ئی مکی معظمی » ته سړی واستاوه، له هغه ځایه تقریباً د زرو تنو لښکر چه د قریشو لوی لوی سرداران او مشران هم پکښې شامل وو، له پوره وسلو، سامانونو، لوازمو او تجهیزاتو سره د مدینې منوری په لوری رهی (روان) شو. رسول الله مبارک د «صفراء» په مقام کښې ؤ چه دا خبره ورمعلومه شوه چه د ابو جهل او د نورو لویو لویو ائمة الکفر تر مشری لاندی لوی لښکر په ډیر زور او شور او غیظ او غضب د اسلام د مقابلې له پاره را رهی (روان) شوی دی. د دې غیر متوقع صورت له پیښیدلو څخه وروسته رسول الله مبارک بیا خپلو اصحابو کرامو ته د دې خبری اطلاع هم وکړه، چه په دغه وخت کښې دوه جماعته ستاسی په مخکښې دی

«١»: تجارتی قافله.

«٢»: فوځی لښکر. د الله تعالیٰ اراده داسی ده چه له دغو دوو تولیو څخه پر یوه باندی به تاسی مسلط وګرځئ؛ تاسی دا راوښئ چه له دغو دواړو دلو ځنی پر کومی باندی تعرض او یرغل (حمله) کول غواړئ!؟ او د هغه د مقابلې له پاره تیار یئ؟! څرنګه چه دغه اسلامی لښکر خپل پوره تیاری لوی جهاد ته نه وه کړی ځینو افرادو چه خپل لږ سامان، وسلو او اسبابو او د تعداد قلت ته وکتل نو داسی رایه یی ورکړه چه پر تجارتی قافلې باندی یرغل (حمله) زیات مفید او آسان دی مګر دغه رایه د رسول الله مبارک نه وه خوښه. حضرت ابوبکر صدیق، حضرت عمر فاروق او حضرت مقداد بن الاسود رضی الله تعالیٰ عنهم اجمعین په ډیر ځوښ (جوش) سره غیرت راوړونکی نطقونه او ښی ویناوی وکړی. او ښی په زړه پوری خبری ئی بیان کړی، او ځوابونه ئی وویل. په آخر کښې حضرت سعد بن معاذ رضی الله تعالیٰ عنه تقریر وکړ.

وروسته داسی فیصله وشوه چه د عسکریت په ډګر کښې ښائی چه مونږ د اسلامی شجاعت جوهر وښیو. څنګه چه د بدر په مقام کښې دغه دواړه د حق او باطل فوځونه سره مخامخ شول الله تعالیٰ مسلمانانو ته لوی بری عنایت او وربه برخه کړه. د کافرانو «٧٠» تنه لوی لوی سرداران ووژل شول او «٧٠» تنه ئی بندیان شول. په داسی دول (طریقه) د کفارو زور مات شو.

په دغه سورت کښې عموماً د هم دغی غزا جزئیات او متعلقات بیان شوی دی. هغه کسان چه داسی خیال کوی چه په دغه غزا کښې رسول الله مبارک له ابتداء څخه د هغه لښکری قوت د

مقابلی له پاره وتلی ؤ چه د تعرض په مقصد د مدینی منوری په لوری رهی (روان) شوی ؤ او د قریشو په تجارتی قافلی باندی د حملی په نیت له اوله تر آخره پوری هیڅ نه ؤ وتلی نو د دی عقیدی خاوندان فی الحقیقت غواړی چه د حدیثو، سیرو او د قرآنی اشاراتو تولی ذخیری له خپلو مجعولاتو ځنی قربان کړی.

دا څه منطق دی چه هغو محاربینو کفارو ته چه د هغو د تعرض او د لاس اچولو لامله (له وجی) د مسلمانانو ځان او مال او هیڅ شی مامون او مصون نه ؤ پاتی او نه وروسته له هغه د هغو د مصونیت توقع وه. ځانی او بدنی نقصان رسونه جائزه وګڼله شی لیکن تجارتی او مالی نقصان رسونه ورته له انسانیت او تهذیب څخه مخالفه وی؟ یعنی د دوی ځانونه د ظلم او شرارت او د کفر او طغیان لامله (له وجی) محفوظ او مصون نه وی مګر مالونه دی یی خامخا محفوظ پاتی وی، ګواکی که دوی د ژوندانه له حقوقو محروم او بی برخی پاتی کیږی پاتی دی شی؛ لیکن د ژوندانه له سامانه دی محروم نشی. ﴿ إِنَّ هَٰذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ ﴾ او دغه خبره له سره د منلو نه ده.

باقی دغه دعوی چه پر هغو کسانو چه حمله یی نه ده کړی د مسلمانانو تعرض او یرغل (حمله) ورول نه دی جائز ـ ځکه چه دغه تعرض د ﴿ وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ ﴾ څخه به مخالف وی قطع نظر له دی نه چه دغه مسئله له موجودی واقعی سره بی تعلقه ده، ځکه چه د مکی معظمی کفار لا له پخوا څخه هر ډول (طریقه) منظم ظلمونه او تعرضات او حملات پر مسلمانانو کړی ؤ او د راتلونکی زمانی له پاره هم هر قسم انذار او ویرول ئی کول بلکه په دغه مورد کښی د دوی پلمو (تدابیرو)، مراسلاتو او نورو تشبثاتو هم جریان درلود (لرلو) فی نفسه هم صحیح نه ده، ځکه چه دغه آیت د هجرت په ابتداء کښی نازل شوی دی. او روسته له دی نه نور آیتونه هم نازل شوی دی، چه په هغو کښی د قتال مطلق حکم شته. بیا دا هم د غور او دقت وړ (لائق) ده ـ چه یوازی په هم دومره ویلو سره چه د متعرضینو مدافعه وکړئ! دغه خبره نه لازمیږی چه په هیڅ یو حالت کښی له سره تعرض مه کوئ! او د هغه اجازه نشته. د دی مسئلی تفصیل په «الجهاد الکبیر» او «الشهاب» کښی لیکلی شوی دی او ځای په ځای په دغو صفحاتو کښی هم نور لازم معلومات د هغه په نسبت لیکلی کیږی انشاءالله تعالیٰ .

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چه ډير زيات مهربان پوره رحم لرونکی دی

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْاَنْفَالِ ۭ قُلِ الْاَنْفَالُ لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ ۚ فَاتَّقُوا
اللّٰهَ وَاَصْلِحُوْا ذَاتَ بَيْنِكُمْ ۠ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗٓ اِنْ كُنْتُمْ
مُّؤْمِنِيْنَ ① اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ
قُلُوْبُهُمْ وَاِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ اٰيٰتُهٗ زَادَتْهُمْ اِيْمَانًا وَّعَلٰي
رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ② ۚ الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَمِمَّا
رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ③ ۭ اُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا ۭ لَهُمْ
دَرَجٰتٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَمَغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ④ ۚ

پوښتنه کوی دوی له تانه (ای محمده!) له «حکمه د» غنائمو څخه ووايه «دوی ته چه اموال د» غنيمتونو خاص الله لره دی او رسول (د الله) لره دی (چه تقسيم ئی کړی سم له شرعی اصولو سره) پس ووېرېږئ تاسی له الله نه او اصلاح وکړئ تاسی د هغه حال چه په منځ ستاسی کښی دی «يعنی په خپلو منځونو کښی سره دوستی وکړئ! او نزاع پرېږدئ» او حکم ومنئ تاسی د الله او «حکم ومنئ تاسی» د رسول د الله که يئ تاسی مومنان (په حقه سره) بيشکه خبره هم دا ده چه حقانی مؤمنان هغه کسان دی کله چه ياد کړی شی (دوی ته نوم د) الله نو وېرېږی زړونه د دوی او کله چه ولوستی شی پر دوی باندی آيتونه «کلام» د الله نو زياتوی دغه (آيتونه) دوی لره ايمان (د دوی) او پر رب «پالونکی» خپل باندی توکل «اعتماد» کوی دوی. (دوی) هغه (مومنان) دی چه قائموی «سم اداء کوی سره له تولو حقوقو» دوی لمونځ او له ځينی د هغه ماله چه ورکړی دی مونږ دوی ته نفقه کوی «لګوی په لاره د الله کښی» دغه کسان هم دوی دی مؤمنان په حقه سره شته دوی ته درجی په نزد د رب د دوی او مغفرت (ښښنه) او رزق نيک (د عزت).

**تفسير:** «انفال جمع د نفل دی او غنائمو ته ځکه نفل وايه شي چه د رب العزت د فضل او مرحمت محض يوه عطا ده» په بدر کښې هغه د غنيمت مال چه په لاس راغلی ؤ په اصحابو کرامو کښې د هغه په نسبت نزاع وه؛ هغه ځلميان چه مخکښې وړاندی تللی، او جنګونه ئې کړی وو؛ دوی د غنيمت ګرد (تول) اموال خپل حق ګڼه، پاخه او سپين ږيری سړی چه د ځلميانو تر شا ولاړ وو داسی به ئې ويل چه زمونږ په لار ښوونه او اعتماد تاسی ته دغه توره، فتحه او بری په برخه شوی دی، نو ځکه ښائی چه غنيمت مونږ ته هم راکړ شي هغه جماعت چه د نبی کريم عليه افضل الصلوٰة والتسليم حفاظت کاوه او د دوی په مبارک حضور کښې حاضر ولاړ وو دوی هم خپل ځانونه د دغو اموالو مستحق بلل. په دغو آيتونو کښې دغه خبره ښوولی شوی ده چه فتح يوازی د الله تعالیٰ په مرسته (مدد) ستاسی په برخه شوی ده د بل هيڅ يوه په توره، زور، تدبير لارښوونه او اعتماد سره تاسی هغه نه ده حاصله کړی؛ نو د دغو اموالو مالک الله ذوالجلال دی او رسول الله صلی الله عليه وسلم د پاک الله نائب دی. څرنګه چه الله جل جلاله د خپل رسول په وسيله حکم ورکړی دی، ښائی چه له همغه حکم سره موافق دی غنائم هم وويشل شي. د دی حکم تفصيل به وروسته راشي.

صادق او کامل مسلمانان دی بايد په هره معامله کښې له الله جل جلاله ځنی وويريږی! او په خپلو منځونو کښې دی په صلح او پخلا واوسيږی! او په وړو وړو خبرو کښې دی جنګ او جګړه نه کوی او له خپلو اراؤ او جذباتو څخه دی نظر قطع کړی! محض د الله جل جلاله او د رسول الله صلی الله عليه وسلم احکام دی ومنی! کله چه د الله تعالیٰ نوم ياد شي، نو له خوف او هيبته دی وريږدی! د الله تعالیٰ د آيتونو او احکامو د آوريدلو ځنی دی د دوی ايمان او يقين لا مضبوط او زيات شي او دومره مضبوط او قوی دی وګرځی چه په هره معامله کښې د هغو اصلی اعتماد او توکل او هيله (اميد) پرته (علاوه) له الله تعالیٰ بل پر هيڅ باندی پاتی نشی خالص مؤمن د الله تعالیٰ په حضور کښې د عبوديت سر ښکته کوی. او د الله تعالیٰ په پاک نامه خپل ځان، مال ـ دولت او ګرد (تول) موجوديت لګوی. الغرض په عقيده، خلق، عمل، مال او هر شي سره د الله تعالیٰ د خوښی حاصلولو په لاره کښې کوښښ کوی، نو هم داسی کسانو ته کامل، صادق، رښتين او پاخه مسلمانان ويلی شي چه د الله تعالیٰ په دربار کښې به له خپلو خپلو درجو سره سم د قرب پر لويو لويو مقاماتو او مراتبو باندی فائز کيږی او الله تعالیٰ به د دوی له معمولی قصور ځنی تيريږی او د عزت او رفعت په روزی او رزق سره به افتخار او سر لوړی ورته ورکوی. رزقنا الله منه بفضله ومنه وکرمه!

كَمَآ أَخْرَجَكَ رَبُّكَ مِنۢ بَيْتِكَ بِالْحَقِّ وَإِنَّ فَرِيقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ لَكَٰرِهُونَ ۝٥ يُجَٰدِلُونَكَ فِى الْحَقِّ بَعْدَ مَا تَبَيَّنَ كَأَنَّمَا يُسَاقُونَ

# إِلَى الْمَوْتِ وَهُمْ يَنظُرُونَ ⑥

(دا د قسمت کراهیت دوی ته داسې ؤ) لکه چه ایستلی وی ته رب ستا له کوره خپله په حقه سره. حال دا چه بیشکه یوه (ډله) له مؤمنانو خامخا ناخوښه وو (له دی ایستلو چه ورته تیار نه وو) حال دا چه جګړه کوله دوی له تا سره په حقه خبره کښې «چه جهاد ؤ» وروسته له هغه چه ښکاره شوه «دوی ته فتح ستا په بشارت، داسې جګړه ئې کوله په کولو د جهاد کښې» ګواکې بیولی کیږی دوی طرف د مرګ ته په داسې حال کښې چه دوی وینی «عیناً مرګ په سترګو».

**تفسیر:** یعنی فکر وکړئ! چه په هم دغه د بدر په جنګ کښې له شروع څخه تر آخره پورې په څه ډول (طریقه) سره د الله تعالیٰ تحریک، امداد، تائید او توفیق د مسلمانانو په برخه ؤ، هم دغه پاک الله ؤ چه د نصرت صادقه وعده یې د اسلامی دین په نسبت وفرمایله او خپل نبی صلی الله علیه وسلم ئې د یوه حق امر یعنی له کفارو سره د (جهاد) کولو له پاره له مدینې منورې څخه د باندې د بدر په ډګر کښې په داسې وخت کښې راوویست، چه د مسلمانانو یوه ډله د قریشو له لښکرو سره پر جنګیدلو راضی او خوښه نه وه دغو خلقو د داسې ربښتیا او فیصله شوی شی او د الله تعالیٰ د قطعی وعدی په نسبت خپل تردد او تذبذب ښکاراوه په هغه امر کښې چه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په واسطه ښکاره شوی ؤ دلیلونه وړاندی کول چه هغه یقیناً خدای فرمایلی او ضرور واقع کیدونکی ؤ. یعنی د جهاد په وسیله د اسلام او د اسلام د تابعانو غالب کیدل او د ابوجهل له لښکرو سره مقابله پر دوی باندی دومره شاقه او ګرانه وه، لکه چه چا ته په رڼو سترګو د مرګی په خوله کښې ورتلل سخت او مشکل ښکاری. بیا هم الله تعالیٰ په خپل توفیق سره دوی د جنګ ډګر ته بوتلل. او په خپل امداد سره ئې مظفر او منصور وګرځول، او له غنیمت سره یی سالم بیرته راوستل نو څرنګه چه د الله تعالیٰ په مرستی (مدد) سره دغه لوی مهم له اوله تر آخره پورې پای (اخر) ته رسیدلی دی، نو د غنیمت اموال هم ښائی چه د هغه مال وګڼل شی او د هغه هر هغه مصرف چه پاک الله د خپل رسول په وسیله درښیی، ښائی چه هملته دی تقسیم او صرف کړ شی!

**تنبیه:** د ﴿كَمَآ أَخْرَجَكَ﴾ کاف می په خپل تقریر کښې یوازی د تشبیه له پاره نه دی اخیستی بلکه د ابوحیان رحمة الله علیه له تحقیق سره موافق د تعلیل په معنی باندی می مشتمل کړی دی لکه چه په ﴿وَاذْكُرُوهُ كَمَا هَدَىٰكُمْ﴾ کښې علماؤ تصریح کړی وه او د ﴿كَمَآ أَخْرَجَكَ رَبُّكَ مِنۢ بَيْتِكَ﴾ الی آخر الایات مضمون می د ﴿قُلِ الْأَنفَالُ لِلَّهِ وَالرَّسُولِ﴾ یو سبب ګرځولی دی. او د ابوحیان رحمة الله علیه او د نورو په شان می «اعزک الله» او نور می مقدر نه دی منلی او هم می

د آیت په تقریر کښې د «روح المعانی» د صاحب رحمة الله علیه له تصریح سره سمه اشاره کړی ده، چه د ﴿ كَمَآ أَخۡرَجَكَ رَبُّكَ مِنۢ بَيۡتِكَ ﴾ کښې د دوی یوازی خروج عن البیت مراد نه دی. بلکه له «خروج من البیت» ځنی تری (دخول فی الجهاد) پوری اوږده او پراخه زمانه مطلوبه ده چه پکښې ﴿ وَإِنَّ فَرِيقٗا مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ لَكَٰرِهُونَ يُجَٰدِلُونَكَ فِي ٱلۡحَقِّ ﴾ او نور ګرد (تول) احوال او وقائع سره شامل او واقع شوی دی. د یوی ډلی کراهیت خو عین د خروج عن المدینه په وخت کښې لا ښکاره شوی ؤ، لکه چه د صحیح مسلم شریف او د طبری شریف په حواله د الانفال د سورت په اوله مقدمه کښې د(٩٨٤) مخ له «٢٢» سطر څخه بیان شوی دی. او د مجادلی صورت به غالباً وروسته له هغه د کفارو د لښکرو د خوځیدلو د اطلاع رسیدلو په وخت کښې د «صفراء» په مقام کښې واقع شوی وی، له دی پوهیدلو څخه به د ځینو مبطلینو د مغالطو استیصال په ښه ډول (طریقه) سره وشی.

---

وَإِذۡ يَعِدُكُمُ ٱللَّهُ إِحۡدَى ٱلطَّآئِفَتَيۡنِ أَنَّهَا لَكُمۡ وَتَوَدُّونَ أَنَّ غَيۡرَ ذَاتِ ٱلشَّوۡكَةِ تَكُونُ لَكُمۡ وَيُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُحِقَّ ٱلۡحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦ وَيَقۡطَعَ دَابِرَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٧ لِيُحِقَّ ٱلۡحَقَّ وَيُبۡطِلَ ٱلۡبَٰطِلَ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ٨

---

او «یاد کړئ!» هغه وخت چه وعده کوله له تاسی سره الله یو د دوو طائفو (ډلو څخه چه قافله یا لښکر ؤ) چه بیشکه دغه تاسی لره ده او ستاسی خوښه وه چه بیشکه هغه بی وسلی بی زحمته «بی اغزی ډله دی» وی تاسی ته او اراده لری الله د دی چه ښکاره ثابت کړی رښتیا په کلامونو خپلو سره او پری کړی بیخ د کافرانو له پاره د دی چه ظاهر غالب کړی حق «دین د اسلام» او «له پاره د دی چه» ظاهر کړی بطلان د باطل (کفر) او اګر که بده منی «دا خبره» مجرمان (کافران او پری خپه کیږی).

---

**تفسیر:** مسلمانانو غوښتل چه پر تجارتی قافلی باندی دی حمله وشی چه یو اغزی هم د دوی په پښو کښې چوخ نشی او ډیر مال او اسباب هم په لاسونو ورشی لیکن د الله تعالیٰ رضا داسی وه چه دغه وړوکی کم قوته او بی سامانه تولی ته پر یوه کثیرالتعداد او مرتب او منظم او له شوکته ډک لښکر باندی فتح او بری ورعطا کړی او خپلی ګردی (تولی) کلمی او خبری په دغی وسیلی سره په یوه حیرانوونکی ډول (طریقه) رښتیا او ثابتی کړی. او د مکی معظمی د کفارو بیخ له

سته وکاږی چه په دی دول (طریقه) سره د الله تعالیٰ د وعدی صداقت په یو حیرت زیاتوونکی اصول سره ظاهر شی او د صدق صداقت او د کذب کذابیت د کفارو علی الرغم په صاف صاف دول (طریقه) سره ښکاره شی لکه چه هم داسی هم وشو او په بدر کښی د قریشو اویا تنه نور مشران ئی بندیان شول او په دی دول (طریقه) سره د کفارو ملاوی ماتی شوی او د مکی معظمی د کفارو بنیادونه سره ولړزیدل. فلله الحمد والمنه!

إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُم بِأَلْفٍ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ مُرْدِفِينَ ﴿٩﴾ وَمَا جَعَلَهُ اللَّهُ إِلَّا بُشْرَىٰ وَلِتَطْمَئِنَّ بِهِ قُلُوبُكُمْ ۚ وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِندِ اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿١٠﴾

«یاد کړئ» هغه وخت چه استغاثه به کوله تاسی رب خپل ته نو الله درورسیده له پاره د(فریاد) ستاسی چه بیشکه زه مرسته (مدد) کوونکی یم له تاسی سره په زرو تنو له پرښتو ځنی یوه په بلي پسی راتلونکی. او نه وه ګرځولی «نه وه ورکړی» دغه «مرسته (مدد)» الله مګر (ورکړی ئی وه فقط) دپاره د دی چه زیری شی «د نصرت» او له پاره د دی چه مطمئن «آرام» شی په دغی مرستی (مدد) سره زړونه ستاسی او نه ده مرسته (مدد) مګر «خو ده» له جانبه د الله، بیشکه الله ښه غالب قوی دی (د احکامو په انفاذ) ښه حکمت والا «چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی».

**تفسیر:** دا قسم یو بل آیت په «٤» جزء د آل عمران په «١٢٦» آیت (١٣) رکوع کښی هم تیر شوی دی دلته دی هم همغه تفسیر بیا وکتلی شی! هو! دومره ده چه هلته د پرښتو تعداد له (٣٠٠٠) ځخه تر (٥٠٠٠) پوری بیان کړی شوی ؤ، که د دغو دواړو آیتونو واقعه یوه وی نو ویلی کیږی چه اول ځلی به یو زر کسیزه ډله راغلی وی، بیا به وروسته له هغی بله ډله راغلی وی چه د هغی تعداد به له درو زرو ځنی تر پنځو زرو پوری رسیدلی وی. ښائی د ﴿مُرْدِفِينَ﴾ له لفظ ځنی هم دی لوری ته اشاره وی.

إِذْ يُغَشِّيكُمُ النُّعَاسَ أَمَنَةً مِّنْهُ وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُم مِّنَ السَّمَاءِ مَاءً لِّيُطَهِّرَكُم بِهِ وَيُذْهِبَ عَنكُمْ رِجْزَ

الشَّيْطٰنِ وَلِيَرْبِطَ عَلٰى قُلُوْبِكُمْ وَيُثَبِّتَ بِهِ الْاَقْدَامَ ﴿۱۱﴾

«ياد کړئ» هغه وخت چه واچوله «الله» په تاسی باندی پرکالی (د خوب پرمښکی) دپاره د امن «تسکين» ستاسی له خپله جانبه او نازلی کړی (الله) پر تاسی له (طرفه د) آسمانه اوبه دپاره د دی چه پاک کړی تاسی په دغو «اوبو» سره او لری کړی له تاسی نجاست د شيطان او دپاره د دی چه قوت واچوی په زړونو ستاسی کښی او محکم کړی په هغو «اوبو» سره قدمونه ستاسی.

**تفسير:** د بدر غزا فی الحقيقت د مسلمانانو له پاره ډيره سخته ازموينه او د عظيم الشان امتحان موقع وه. مجاهدين په دغه غزا کښی لږ، ډير بی وسلی، بی لوازمه او بی سامانه وو ځکه چه دوی د کوم لوی لښکر د مقابلی له پاره لازم تجهيزات او ترتيبات نه وو نيولی، او د دوی په مقابل کښی يو په درې د کفارو مکمل او مجهز داسی لښکر ولاړ وو چه په پوره وسلو او سامانونو سره سمبال او د کبر او فخر او غرور او ځانمنی (خود رائی) له نشو ځنی مست او بيخوده وو. د مسلمانانو او د کافرانو په منځ کښی دغه ړومبنی مهم او قابل الذکر تصادم ؤ او بيا ئی صورت هم داسی واقع شوی ؤ چه کفارو لا له پخوا ښخه پر ښو ښو ځايونو او د اوبو او نورو حاکمه ؤ نقاطو باندی قبضه کړی وه. او مسلمانانو په يوه تيت ځای کښی موقع نيولی وه چه پکښی ډيری داسی زياتی شګی وی چه تګ او راتګ پکښی سخت مشکل او د تلونکی پښی به پکښی ډيری خښيدی. د ګرد او غبار او دوړو لامله (له وجی) هم سخت تکليف او ربړ وررسيده د اوبو د نشتوالی له سببه له يوه جانبه د اوداسه او غسل تکليف او له بل طرفه له تندی ځنی مسلمانان ډير زيات وارخطا شوی وو. د دغو شيانو له ليدلو ښخه مسلمانان ويريدل او په ښکاره ډول (طريقه) سره ئی د ماتی آثار ليدل. شيطان د دوی په زړونو کښی داسی وسوسی ورواچولی چه که په رښتيا سره تاسی د الله تعالیٰ مقبول بندګان يئ نو ښائی چه بالضرور به د الله تعالیٰ تائيد او مرستی (مدد) له تاسی سره وی او داسی پريشان کوونکی او ياس پيښوونکی صورت به مو نه په برخه کيده. په دغه وخت کښی الله تعالیٰ په خپل کامل رحمت سره يو زورور باران اوراوه. چه په هغه سره هغه ګردی (تولی) شګی کلکی شوی او د غسل او اوداسه له پاره اوبه ډيری شوی او له ګرد او غبار او دوړو ښخه هم وژغورل (وساتل) شول. بالعکس په هغه ځای کښی چه د کفارو لښکر ؤ داسی سختی چيکړی او ختی پيدا شوی چه دوی به درګرده پکښی ښوئيدل او خښيدل. کله چه دغه ظاهری پريشانی ګردی (تولی) لری شوی نو الله تعالیٰ پر مسلمانانو باندی يو قسم پرمښکی او د خوب د پرکالی او بی سدی په شان يوه وضعه راوستله، کله چه له هغی د دوی سترګی خلاصی شوی نو د دوی له زړونو ځنی خوف، هراس او ويره بيخی ورکه شوه، په ځينو رواياتو کښی راغلی دی چه رسول الله مبارک او حضرت ابی بکر

الصدیق رضی الله تعالیٰ عنه توله شپه په عریش کښی په زاری او دعا مشغول ؤ په پای (اخر) کښی پر رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه لږه پرکالی راغله، کله چه له هغی څخه ئی سترګی خلاصی شوی نو وئی فرمایل خوشحاله اوسئ! چه جبرئیل علیه السلام ستاسی د مرستی (مدد) له پاره راځی!) کله چه له «عریش» څخه یی د باندی تشریف راووړ، نو د ﴿ سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ ﴾ بشارت د دوی پر مبارکه ژبه جاری ؤ په هر حال هغه د رحمت باران بدنونه ئی له بی اودسیو او زړونه ئی له شیطانی وسوسو څخنی پاک کړل. له بل لوری د شګو له کلکیدلو څخه په ظاهری دول (طریقه) سره هم د دوی قدمونه ټینګ او ثابت شول، او د دوی له زړونو څخه خوف او ویره بیخی ووته او بیخی داده او مطمئن او زړور شول.

---

إِذْ يُوحِي رَبُّكَ إِلَى الْمَلَٰٓئِكَةِ أَنِّي مَعَكُمْ فَثَبِّتُوا الَّذِينَ آمَنُوا ۚ سَأُلْقِي فِي قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُوا الرُّعْبَ فَاضْرِبُوا فَوْقَ الْأَعْنَاقِ وَاضْرِبُوا مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ ﴿١٢﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ شَاقُّوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ ۚ وَمَن يُشَاقِقِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَإِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿١٣﴾ ذَٰلِكُمْ فَذُوقُوهُ وَأَنَّ لِلْكَافِرِينَ عَذَابَ النَّارِ ﴿١٤﴾

---

«یاد کړه ای محمده!» هغه وخت چه وحی وکړه رب ستا پرښتو ته (چه وواییځ مؤمنانو ته) بیشکه زه له تاسی سره یم «په نصرت او اعانت» نو ثابت کړئ تاسی هغه کسان چه مؤمنان دی (په نصرت او بشارت) ژر به وغورځوم زه په زړونو د هغو کسانو کښی چه کافران شوی دی ویره نو ووهئ تاسی (سرونه د دی کفارو) د پاسه د ورمیږونو او ووهئ تاسی له دغو «کفارو څخه هر هر بند» او تولی ګوتی. دغه «وهل د کفارو» د دی دپاره دی چه بیشکه دوی مخالفت کړی دی له الله او له رسول د دغه (الله) پر پریښودلو (د شرعی) او هر هغه چه مخالفت کوی له الله او له رسول د الله نو بیشکه الله سخت دی عذاب (د ده مخالفانو ته په دنیا او عقبیٰ کښی ) دغه «ستاسی دنیوی عقوبت دی» نو وڅکئ تاسی دا (دنیوی عذاب ای کفارو!) او «وپوهیږئ چه» بیشکه مقرر دی کافرانو ته عذاب د اور (د دوزخ په آخرت کښی ).

**تفسير:** د بدر د غزا د اهميت اندازه له دې نه ښه لګيدی شي چه په خپله لعين ابليس د «کنانه» د لوی سردار سراقه بن مالک مدلجي په صورت ممثل شوی ابوجهل ته راغی او د مشرکانو زړونه ئې ډير مطمئن او ښه داده کړل او هغوی ته ئې اطمينان ورکړ چه نن پر تاسی باندې هيڅوک بری او غلبه نشي مونډلی او زما ګرده (توله) قبيله له تاسی سره ده. د ابليس تر بيرغ لاندې د شيطانانو ډير لوی لښکر ؤ د دې واقعي تفصيل وروسته راځي، د دوی په مقابل کښې الله تعالیٰ د مسلمانانو د مرستې (مدد) او امداد له پاره د خپل فوځ قطعات د جبرئيل او ميکائيل عليهما السلام تر مشرۍ لاندې وليږل. او وئې فرمايل چه زه له تاسی سره يم که شياطين د انسانانو په صورت سره متشکل شوی دی او په دغه وسيله سره د کفارو حوصلې زياتوی، او د دوی له لورې جنګيدلو ته تيار دی او د مسلمانانو په زړونو کښې وسوسې وراچوی. او دوی ويروی نو تاسی ای پرښتو! د مظلومو او ضعيفو مسلمانانو زړونه مضبوط او ټينګ کړئ! له دې لورې تاسی د دوی همت ور زياتوئ! د هغه لورې به زه د کفارو په زړونو کښې دهشت، رعب او خوف او ويره اچوم تاسی د مسلمانانو په مرسته (مدد) د دغو ظالمانو اورميږونه (مرئ) ووهئ! (يعنې پرې ئې کړئ!) او بند په بند او پيوند په پيوند يې جلا (جدا) او اندې، اندې (توټې توټې) ئې کړئ!.

څکه چه نن ګرد (ټول) انسي او جني کافران سره يو شوی دی، او د الله تعالیٰ او د رسول الله صلی الله عليه وسلم په مقابل کښې درېدلی دی، نو ښائي دوی ته معلوم شي چه د الله تعالیٰ مخالفانو ته څرنګه سختې سزاوی ور په برخه کيږی؟ کومه سزا چه په آخرت کښې دوی ته ورکوله کيږی، هغه ډيره سخته ويروونکې ده ليکن د هغې يوه وړوکې نمونه په دنيا کښې هم وينې او د الهٰي عذاب څخه څه خوند څکې، په روايتونو کښې مذکور دی چه په بدر کښې خلقو پرښتې په خپلو سترګو سره ليدلې. او هغه کفار چه د پرښتو له لاسه وژلی شوی وو د هغو کفارو څنې چه مسلمانانو وژلې وو جلا (جدا) او له ورا پيژندل کيدل. الله تعالیٰ يوه نمونه ورښووله چه که چيرې شياطين الانس والجن په داسې يوه فوق العاده ډول (طريقه) سره د الله تعالیٰ په مقابل کښې سره ټول شي، نو الله تعالیٰ اهل الحق او خپلو مقبولو بندګانو ته هم په داسې يو فوق العاده ډول (طريقه) سره د پرښتو په مرسته (مدد) سره کمک او امداد وررسوی. باقي نور هر قسم فتح او غلبه او بری، بلکه هر لوی او وړوکی کار د پاک الله په اراده او مشيت او قدرت سره انجام مومی. پاک الله نه پرښتو ته احتياج لری. او نه انسانانو ته. که له پرښتو څنې کوم کار اخلی نو دوی ته ئې داسې يو قوت او طاقت ور عطا کړی دی، چه يوازې يوه پرښته ډير لوی کلي او ښارونه له ځمکې څنې پورته کولی شي او په بل مخ ئې ويشتلی شي. دلته خو ئې په عالم تکليف او اسباب کښې د لوی يوی تنبيه په شان د شياطينو د فوق العاده مندې وهلو او توليدو ځواب ورکول منظور ؤ او بس!.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ

كَفَرُوا زَحْفًا فَلَا تُوَلُّوهُمُ الْأَدْبَارَ ﴿۱۵﴾

ای هغو كسانو چه ايمان ئې راوړی دی «يعنی ای مؤمنانو!» كله چه يو ځای شئ تاسی (يا مخامخ شئ يا پيښ شئ په جنګ كښې ) هغو كسانو سره چه كافران شوی دی «د جنګ په ډګر كښې » په دغه حال كښې چه دوی غوند (او ګڼ) وی نو مه ګرځوئ تاسی دغو (كفارو) ته شاوی خپلی «د تيښتی په نيت».

**تفسير:** «فرار من الزحف» يعنی له جهاده ځنې وتل او تيښتيدل او په جنګ كښې كفارو ته خپله شا اړول ډيره لويه ګناه او له اكبر الكبائرو ځنی ده. كه د كفارو تعداد د مسلمانانو له شميره يو په دوه وی بيا هم فقهاؤ مسلمانانو ته د شا آړولو اجازه نه ده وركړی.

وَمَن يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ إِلَّا مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزًا إِلَىٰ فِئَةٍ فَقَدْ بَاءَ بِغَضَبٍ مِّنَ اللَّهِ وَمَأْوَاهُ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿۱۶﴾

او هر هغه چه وګرځوی دغو «كفارو» ته په دغه ورځ «د مخامخ كيدلو د جنګ» شا خپله مګر په دی حال كښې چه بيرته ګرځيدونكی وی (په هنر سره) له پاره د جنګ يا حال دا چه يو ځای كيدونكی وی په طرف د بلی طائفی «د مجاهدينو» نو په تحقيق رجوع ئې وكړه او اخته شو په غضب (قهر) له «جانبه د» الله او ځای د اوسيدلو د ده دوزخ دی او بد ځای د ورتلو دی (دا دوزخ).

**تفسير:** يعنی تيښته او په شا كيدل كه د كوم جنګی مصلحت له پاره وی، مثلاً له بيرته تللو ښخه وروسته بيا حمله وروړل ډير مؤثر وی يا جولان كوونكی وی دپاره د تودولو د جنګ يا دپاره د غيل (دوكه) وركولو د دښمن چه په تيښته ئې تير باسی او بيا پری يرغل (حمله) وروړی يا كه د غازيانو يوه ډله له خپل مركزی فوځ ښخه بی له لښكری مصلحتونو بيل شوی وی او دوی د خپل ځان د ساتنی لامله (له وجی) تيښته كوی او له خپلو نورو ملګرو سره ځان ګډوی نو داسی تيښته جرم نه دی او ګناه فقط په هغه وخت كښې ده چه تيښته يواځی له ويری

او د ځان د ژغورنې (محفوظ کولو) او د حقیقي تیښتې په نیت وي.
(وفرمایل الله که تاسې فخر کوئ ای مسلمانانو په قتل او حبس د کفارو)

---

فَلَمْ تَقْتُلُوهُمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ قَتَلَهُمْ ۚ وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ رَمَىٰ ۚ وَلِيُبْلِيَ الْمُؤْمِنِينَ مِنْهُ بَلَاءً حَسَنًا ۚ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٧﴾

---

نو نه دي وژلي تاسې دغه «کفار په خپل قوت سره په بدر کښې» ولیکن الله وژلي دي دغه «کفار چه مرسته (مدد) ئې تاسې ته درکړې ده» او نه دي ویشتل کړي تا «ای محمده! دغه ویشتل چه د بشر له شان څخه نه دي» په هغه وخت کښې چه (ظاهري) ویشتل کړي وو تا ولیکن الله دغه ویشتل کړي وو او(دا کار کړی ؤ الله) د دې له پاره چه وازموئې مؤمنان له نزده خپله په ازموینه «یا د دې له پاره چه احسان وفرمائي پر مؤمنانو له دربار خپل ښه احسان او انعام په اکرام د مرستې (مدد) او ولجې» نیکه سره «چه د نصرت او غنیمت نعمت دوی ته ورکړی» بیشکه الله ښه اوریدونکی (د ګردو (ټولو) اقوالو) ښه عالم دانا دی «په ټولو احوالو».

---

**تفسیر:** کله چه جنګ سخت شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د کفارو د لښکرو په لوری یو موټی شګې وشیندلې (وغورځوله) او درې ځلې ئې «شاهت الوجوه ـ قبیح شول مخونه د دښمنانو!» وویل ـ د الله تعالیٰ په قدرت د دغو شګو ذرې د هر یوه کافر په سترګو کښې ولویدلې او ګرد (ټول) د خپلو سترګو په مښلو باندې لګیا شول، له بل لوري مسلمانانو سم د لاسه یرغل (حمله) وروړ، بالاخره ډیر کفار (لکه شین فصل) وریبل او ووژل شول، په هم دغه نسبت فرمائي چه اګر که په ښکاره ډول (طریقه) سره شګې تا په خپل لاس سره وشیندلې، لیکن عادتاً هیڅ بشر داسې کار نشي کولی چه د یوه موټي شګې ذرې د هر یوه کافر محارب سترګو ته ور ورسوي، او د یوه مسلح لښکر د تیښتې سبب وګرځي. دا یوازې د الله تعالیٰ قدرت ؤ چه یو موټی شګې یې د ګردو (ټولو) کافرو محاربینو په سترګو کښې وغورځولې. په تاسې بې وسلې او بې سامانه او لږو مسلمانانو کښې دومره قوت او قدرت چیرې ؤ چه یوازې ستاسې په مټ او زور سره کفارو داسې ماتې وخوړه دا خو د الله تعالیٰ د قدرت اثر او اغیزه وه چه داسې متکبر او سرکشان ئې د موت او فناء او ذلت او قید په کنده کښې وغورځول. هو! دا خبره ښکاره ده چه ظاهراً دغه کار ستا د لاسونو په وسیله شوی او ستا په لاسونو کښې داسې یو فوق العاده قوت او قدرت پیدا

کړ شو چه تا هغه په خپل کسب او اختیار سره حاصلولی نشو دغه واړه د دی لامله (له وجی) وکړل شول چه د الله تعالیٰ قدرت ظاهر شی ـ او پر مسلمانانو باندی پوره مهربانی او په ښه ډول (طریقه) سره احسان وشی. بیشکه الله تعالیٰ د مؤمنانو دعاء او فریاد اوری ـ او د دوی افعال او احوال په ښه ډول (طریقه) ورمعلوم دی. او دی هم ښه پوهیږی چه پر مقبولو بندګانو په کوم وخت او څه ډول (طریقه) احسان مناسب دی؟.

ذٰلِكُمْ وَأَنَّ اللّٰهَ مُوهِنُ كَيْدِ الْكٰفِرِينَ ﴿١٨﴾

دغه (تیر احسان وشو) او (دغه خبره حقه ده چه بیشکه الله ضعیفوونکی د تدبیر د کفارو دی.

**تفسیر:** یعنی په دغه وخت کښی هم الله تعالیٰ د مکی معظمی د کفارو پلمی (فریبونه) او تدبیرونه ویجاړ او له خاورو سره ئی برابر او لتاړ کړل ـ او وروسته له دی نه هم د دوی ګرد (تول) تدبیرونه خراب او سستوی.

إِنْ تَسْتَفْتِحُوا فَقَدْ جَاءَكُمُ الْفَتْحُ ۖ وَإِنْ تَنْتَهُوا فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ ۖ وَإِنْ تَعُودُوا نَعُدْ وَلَنْ تُغْنِيَ عَنْكُمْ فِئَتُكُمْ شَيْئًا وَلَوْ كَثُرَتْ وَأَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٩﴾

که غواړئ تاسی فتح (فیصله د جانبینو څخه د ښه لار موندونکی په خوا ای کفارو) نو په تحقیق راغله تاسی ته فتح (فیصله د ښه لار موندونکی په خوا) او که تاسی منع راوړه (له کفره او د مؤمنانو له جنګه) نو دغه «منع بهتره او» خیر دی تاسی ته، او که بیا راوګرځیدئ تاسی «جنګ او کفر ته» نو مونږ به هم راوګرځو (نصرت د مؤمنانو ته) او له سره به دفع ونه کړی له تاسی ډله ستاسی هیڅ شی «له عذاب د الله نه» او اګر که ډیره لویه هم وی دا (ډله ستاسی) او «پوه شئ» چه بیشکه الله سره له مؤمنانو دی (په نصرت او ثواب ورکولو کښی).

**تفسیر:** دغه خطاب د مکی معظمی کفارو ته دی. دوی به له هجرت څخه پخوا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ویل ﴿ مَتٰى هٰذَا الْفَتْحُ إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِينَ ﴾ زمونږ ستاسی په منځ کښی به دغه

فیصله کله کیږی؟ که تاسی رښتین یئ!) که څه هم د دغی خبری پوره فیصله به د قیامت په ورځ کښی کیږی، مګر یو ډول (طریقه) فیصله ئی نن د بدر په میدان کښی هم تاسی ولیده چه په څه یو خارق العاده طریقی سره تاسی ته د کمزورو مسلمانانو له لاسونو سزا در ورسیده؟ که اوس هم د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم له مخالفت او کفر او شرک څخه لاس واخلئ نو بهتر دی او دنیوی او اخروی ګټی به ستاسی په برخه شی او که بیا هم تاسی هم داسی وجنګیږئ نو مونږ به بیا هم په هم دی قسم د مسلمانانو سره مرسته (مدد) کوو. او په پای (اخر) کښی به تاسی ذلیل او خواریږئ! کله چه د الله تعالیٰ تائید له مسلمانانو سره دی نو ستاسی ډلی او لښکری که هر څومره ډیری وی ستاسی په کار به هیڅ درنښی په څینو روایتونو کښی راغلی دی چه ابوجهل او نورو کفارو د مکی معظمی څخه د بدر په لوری د رهی کیدلو په وخت کښی د کعبی شریفی پردی په خپلو لاسونو نیولی داسی دعاوی ئی کړی وی چه یا الله! له دواړو فریقو څخه هره یوه چه اهدی، علیا او اکرمه وی فتحه او بری د همغی ډلی روزی کړی! او فساد اچوونکی مغلوب کړی! نو په ﴿ فَقَدْ جَآءَكُمُ الْفَتْحُ ﴾ کښی د هغه ځواب ورکړ شو. یعنی همغی ډلی ته چه واقعی علیا او افضله وه، فتحه او بری نصیب شو او مفسدان رسوا او خوار او ذلیل شول.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَا تَوَلَّوْا۟ عَنْهُ وَأَنتُمْ تَسْمَعُونَ ﴿٢٠﴾

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (ای مؤمنانو!) حکم ومنئ تاسی د الله او (حکم ومنئ!) د رسول د الله او مخ مه ګرځوئ تاسی له دغه «اطاعت د رسول الله څخه» حال دا چه تاسی اورئ (قرآن).

**تفسیر:** پخوا ئی فرمایلی وو چه الله تعالیٰ له مؤمنانو سره دی په نصرت او ثواب ورکولو کښی اوس مؤمنانو ته هدایت فرمائی چه د مؤمنانو معاملات له الله تعالیٰ او له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره څرنګه ښائی؟ څو د هغه په وسیله د نصرت او حمایت وړ (لائق) او مستحق شی، نو ئی راوښودل چه د یوه صادق مؤمن کار هم دا دی چه دی له سره تر پایه پوری د زړه په اخلاص د الله جل وعلیٰ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم مطیع او فرمان منونکی وی، اګر که ډیر احوال او حوادث ورته پیښ شی. کله چه مؤمن د الله تعالیٰ کلام واوری او تسلیم ئی کړی نو ښائی چه قولاً او عملاً په هیڅ یو حال کښی له هغه څخه مخ وانه ړوی.

وَلَا تَكُونُوا۟ كَٱلَّذِينَ قَالُوا۟ سَمِعْنَا وَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ ﴿٢١﴾

او مه کیږئ تاسي (ای مؤمنانو) په شان د هغو کسانو چه وائي واوریده مونږ حال دا چه دوی نه آوری (په ګټورو اوریدلو سره).

**تفسیر:** یعنی په ژبه وائي چه واموورېده (خبره ستا او ومو مانه حکم ستا!) حال دا چه هغه اوریدل او منل به څرنګه وی چه انسان سمه خبره واوری او پری ونه پوهیږی؟ یا خو پری وپوهیږی خو قبوله ئی نه کری. پخوا یهودانو موسیٰ علیه السلام ته ویلی وو ﴿ سَمِعۡنَا وَعَصَيۡنَا ﴾ وامو وریده خبره ستا او ومو نه منله هغه خبره) او د مکی معظمی د مشرکانو قول چه وروسته د هم دی سورت په «۳۱» آیت کښی راځی ﴿ قَدۡ سَمِعۡنَا لَوۡ نَشَآءُ لَقُلۡنَا مِثۡلَ هَٰذَآ ﴾ په تحقیق وامو وریده دغه قرآن ای محمده! چه ته ئی را اوروی مونږ ته خو بس کره! نور ئی مه لوله! چه مونږ پری وپوهیدو. که مو زړه وغواړی نو مونږ به هم د هم دغه په شان خبری جوړی کړو او رابه یی وړو.» د مدینی منوری د منافقانو اصول داسی وو چه د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم او د مسلمانانو په مخکښی به ئی تش په ژبه د اسلام اقرار کاوه، او په زړه به تری منکران وو په هر حال د صادق مؤمن شان دا دی چه په زړه او په خوله او په عمل او په غیاب او په حضور کښی پر الٰهی او نبوی احکامو عمل وکری، او تر اسلامی هدایاتو ځان جار کری.

إِنَّ شَرَّ ٱلدَّوَآبِّ عِندَ ٱللَّهِ ٱلصُّمُّ ٱلۡبُكۡمُ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡقِلُونَ ﴿٢٢﴾

بیشکه بدتر د تولو حیواناتو په نزد د الله (هغه دی چه) کانه دی (د حق له اوریدلو شخه) «او» ګونګیان دی «د حق له ویلو شخه» هغه کسان دی چه عقل نه لری دوی.

**تفسیر:** هغو کسانو ته چه الله تعالیٰ د ویلو له پاره ژبه او د اوریدلو له پاره غوږونه او د پوهیدلو له پاره زړه او دماغ ورعطا کړی وو بیا دوی دغه ګرد (تول) قوتونه معطل کړل نه په ژبی سره د حق ویلو ـ او د حق موندلو له پاره موفق شول او نه ئی په غوږونو سره د حق غږ واوریده او نه ئی په زړه او دماغ سره د حق د پوهیدلو کوښښ وکړ، الغرض د الله تعالیٰ ګردی (تولی) ورکړی شوی قواوی یی چه په حقیقت کښی د هغو لوړو مقاصدو له پاره ورکړی شوی وی په خپل اصلی کار کښی صرف نه کری بلا شبهه داسی خلق له حیواناتو څخنی هم بدتر دی.

وَلَوْ عَلِمَ اللّٰهُ فِيهِمْ خَيْرًا لَّأَسْمَعَهُمْ ۖ وَلَوْ أَسْمَعَهُمْ لَتَوَلَّوا وَّهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٢٣﴾

او كه معلوم وى الله ته په دوى كښې څه خير نو خامخا اورولى به يې وى دوى «په سماع قبول سره» او كه اورولى وى دوى ته (الله سره له دى چه ور معلوم دى دا چه په دوى كښې هيڅ خير نشته) نو هرومرو (خامخا) به ګرځيدلى وو دوى حال دا چه دوى به څنګ كوونكى وو «له قبوله د حق عناداً او انكاراً»

**تفسير:** يعنى اصلى خبره دا ده چه په دغو خلقو كښې د نيكۍ ريښه (ريشه) او اساس (جرړ) له سره نشته. ځكه چه حقيقى نيكى هلته د انسان په برخه كيږى، چه د ده په زړه كښې د حق غوښتلو مينه او د هداياتو او د نورو حسناتو د قبلولو استعداد او لياقت وى. هغه قوم چه د حق غوښتلو هيڅ روح پكښې نه وى او د الله تعالىٰ ورعطا شوى قوتونه په خپلو لاسونو خرابوى، نو ورو، ورو په دوى كښې د حق د قبول لياقت او استعداد نه پاتى كيږى. نو ويې فرمايل چه الله تعالىٰ د دوى په زړونو كښې د خير او هدايت د قبلولو لياقت ونه ليد - كه په دوى كښې ئې څه لياقت ليدى - نو له خپل عادت سره موافق به ئې ضرور هغوى ته خپل آيتونه آورول - او دوى به ئې پرى پوهول. باقى په دغه موجوده حالت كښې كه دوى ته آيتونه واوروى، او دوى پرى وپوهوى نو دغه ضد او عناد كوونكى خلق سره له پوهيدلو هم د هغو قبلوونكى نه دى.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلّٰهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ ۖ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللّٰهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٢٤﴾

اى هغو كسانو چه ايمان ئې راوړى دى (يعنى اى مؤمنانو! غوږ ږدئ) حكم منئ تاسى «خاص» د الله او (حكم منئ خاص) د رسول «د الله». كله چه وبولى تاسى له پاره د هغه كار چه ژوندى كوى تاسى «په دنيوى او اخروى ژوندون سره» او پوه شئ تاسى چه بيشكه الله پرده كيږى په منځ د انسان او

د زړه د ده کښې او بیشکه شان دا دی چه خاص هم ده ته تاسی جمع کیږئ.

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ او رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه عمل په لوری تاسی ته دعوت درکوی (مثلاً جهاد او نور) چه په هغه کښې له اوله تر آخره ستاسی خیر او گټه (فائده) ده د دوی دغه دعوت او بلنه ستاسی له پاره په دنیا کښې د عزت او اطمینانی ژوند وسیله او په آخرت کښې د ابدی سعادت او د قلبی حیات ذریعه ده (ځکه چه په ربانی علومو او صمدانی فیوضاتو سره مو ژوندی کوی، په شهادة علیه او عقائد صحیحه مو پوهوی او د حق او احسان په قرآن مو خبروی.) نو د مؤمنانو شان دا دی چه د الله تعالیٰ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دعوت په مقابل کښې علی الفور (لبیک) ووائی! او له زړه یی ومنی! هر وخت او هر ځای ته چه پاک الله دوی وبولی، ښائی دوی خپل ګرد (تول) کارونه او مشغولتیاوی پریږدی او همغلته خپل ځانونه ورسوی ﴿وَاعْلَمُوٓا﴾ الآیة - او پوه شئ تاسی چه بیشکه الله پرده کیږی په منځ د انسان او زړه د ده کښې او بیشکه شان دا دی چه خاص هم دغه الله ته تاسی جمع کیږئ.) یعنی د الٰهی حکم په ځای کولو کښې تعطیل او ځنډ (ډیل) مه کوئ! ښائی چه لږ وروسته ستاسی زړه هم داسی پاتی نشی، ځکه چه انسان پر خپل زړه باندی واک او قبضه نه لری بلکه زړه د الله تعالیٰ په اختیار کښې دی، په هر لوری ئی چه اراده وفرمائی آړوی ئی. بیشکه الله تعالیٰ ابتداء په خپل رحمت هغه نه اړوی ـ او نه مهر پری لګوی. هو! کله چه بنده د اسلامی احکامو په امتثال او تعمیل کښې سستی او لتی وکړی نو په سزا کښې یی هغه اړوی. یا که حق غوښتل پریږدی او ضد او عناد غوره کړی نو مهر پری لګوی. کذا فی الموضح. ځینو ﴿يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِۦ﴾ د قرب د بیان له پاره ګڼلی دی. یعنی حق تعالیٰ خپل بنده ته دومره قریب دی چه د ده زړه هم ورته دومره قریب نه دی ﴿وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ﴾ (۲۶ جزء د ق سورت ۱٦ آیت ۲ رکوع) نو د الله تعالیٰ ګرد (تول) احکام له زړه قبول کړئ! الله تعالیٰ له تاسی څخه زیات ستاسی د زړونو له احوالو او پټو اسرارو څخه خبر دی. خیانت د الله جل جلاله په مخ کښې له سره وراندی نشی تلی. د حق جل وعلیٰ شانه په حضور کښې ګرد (تول) سره تولیږئ او هلته به ګرد (تول) مکنونات او اسرار سره منکشف او ښکاره شی او د هر چا په مخ کښې به د هغه ګرد (تول) اعمال او احوال کیښودل شی.

وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَّا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنكُمْ خَاصَّةً ۖ وَاعْلَمُوٓا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿٢٥﴾

او ځان وساتئ تاسی له هغی فتنی (فساد ګناه) څخه چه نه رسیږی (عقوبت

ئی یوازی) همغو کسانو ته چه ظلم ئی کړی وی «په کولو د گناه سره» له تاسی ځنی خاص «او یوازی بلکه عمومی به وی»، او پوه شئ چه بیشکه الله سخت دی عذاب (د ده مخالفانو ته په دنیا او عقبا کښی ).

**تفسیر:** یعنی (له داسی گناه ځنی تاسی ځان ډیر ساتئ چه کوونکی او نه کوونکی دواړه پکښی لاهو کیږی لکه د جهاد او بدعتونو او نفاق او شقاق د ظهور په وخت کښی سستی) فرض ئی کړئ که د یوه قوم اکثرو افرادو د ظلم او د عصیان اصول اختیار کړه، او څه خلق له هغو څخه جلا (جدا) پاتی شول ـ او غوږه مالی ئی غوره کړه ـ نه ئی نصیحت وکړ ـ او نه ئی تری د نفرت اظهار، نو دغه فتنه ده، چه د دی په ضمن کښی هغه ظالمان او دغه پټی خولی خوشامندگران به گرد (تول) سره راځی نو کله چه عذاب راشی، گرد (تول) به علی حسب المراتب په هغه کښی شامل وی، او هیڅوک به تری نه وی خلاص له دی تفسیر سره موافق د دغه آیت مقصود به داسی وی چه د الله جل جلاله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حکم د منلو له پاره هم په خپله تاسی تیار اوسئ! او هم سرکښانو ته نصیحت کوئ او پوهوئ ئی! که دوی ستاسی نصیحت ونه منی، نو د هغوی ځنی د خپلی بیزاری اظهار وکړئ حضرت شاه صاحب د دی آیت مطلب داسی لیکلی دی «مسلمانانو ته له فساد په تیره بیا له داسی گناه ځنی ځان ساتل پکار دی چه د هغی خراب اثر د گناه کوونکو څخه تیریږی او تر نورو پوری هم رسیږی. پخوا ئی وفرمایل چه د الله جل جلاله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د احکامو په منلو کښی ادنٰی تاخیر او لتی ونه کړئ نه چه چیری د ځند (ډیل) کولو لامله (له وجی) ستاسی زړه وگرځی، اوس تنبیه فرمائی چه که نیک خلق لتی وکړی، نو عام خلق به هغه بیخی پریږدی، نو بد رسم به نشریږی او هر چیری به خوریږی، او د هغه گناه او وبال به د گردو (تولو) تر غاړه کیږی. لکه چه که په جنگ کښی یو زړور سری سستی وکړی نو بی زړه او ویریدونکی به تښتی، بیا به په لښکر داسی ماتی گډیږی چه هغه زړور به هم د هغی له اداری څخه عاجز شی.

وَاذْكُرُوٓا۟ إِذْ أَنتُمْ قَلِيلٌ مُّسْتَضْعَفُونَ فِى ٱلْأَرْضِ تَخَافُونَ أَن يَتَخَطَّفَكُمُ ٱلنَّاسُ فَـَٔاوَىٰكُمْ وَأَيَّدَكُم بِنَصْرِهِۦ وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَـٰتِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٢٦﴾

او یاد کړئ تاسی هغه وخت چه تاسی لږ ضعیفان (مغلوبان) کړی شوی وئ په ځمکه کښی ویریدئ تاسی له دی نه چه وبه تښتوی په جلتی سره تاسی خلق

«یعنی مغلوب به کړی تاسی قریش یا پارس یا روم» نو ځای درکړ «الله» تاسی ته او قوت ئی درکړ تاسی ته په کومک (مدد) خپل سره او روزی یی درکړه تاسی ته له طیباتو «پاکو شیانو لکه غنائم» له پاره د دی چه تاسی شکر وباسئ!

**تفسیر:** یعنی د قلت او ضعف له ګمانه د الله تعالیٰ په حکم (جهاد) کښی سستی مه ښکاروئ وګورئ له هجرته پخوا بلکه له هغه وروسته هم ستاسی شمیر لږ ؤ - وسله او سامان هم تاسی نه درلود (لرلو)، کله چه خلقو ستاسی کمزوری لیدله نو طمع یی کوله چه تاسی وخوری او هضم مو کړی - او تاسی ته هر وخت هم دغه اندیښنه درپیښه وه نه چه د اسلام له دښمنانو سره زمونږ جنګ او جګړه ونښلی او مونږ د هغوی په لاس کښی ولویږو او هغوی مو د مرغانو په شان په خپلو منګلو او مښوکو سره چیری وتښتوی مګر الله تعالیٰ تاسی ته په مدینه منوره کښی هستوګنه درکړه - او د انصارو او مهاجرینو په منځ کښی د ورور ګلوی بی ساری سلسله قائمه کړه. بیا ئی د بدر په غزا کښی تاسی ته څرنګه غیبی مرسته (مدد) دروړسوله چه د کفارو بیخ مو وویست. تاسی ته ئی ای مسلمانانو شانداره بری او فتح درکړه!
د غنیمت مال او د بندیانو فدیه ئی هم درکړه الغرض حلال، طیب، پاک شیان او د نعمتونو انواع او اقسام ئی درعطاء کړل چه تاسی د الله تعالیٰ شکرګزار بندګان شئ.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَخُونُوا۟ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ وَتَخُونُوٓا۟ أَمَٰنَٰتِكُمْ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٢٧﴾

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو) مه کوئ خیانت له الله سره او «مه کوئ خیانت د الله» له رسول سره او «مه» کوئ خیانت تاسی په امانتونو خپلو کښی حال دا چه تاسی پوهیږئ چه د امانت ساتل واجب دی».

**تفسیر:** د الله تعالیٰ او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره خیانت دا دی چه د هغو د احکامو مخالفت وکړ شی. په ژبی سره خپل ځان مسلمان وبولی او د کفارو عمل وکړی. یا هر هغه کار باندی چه د الله جل جلاله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له خوا مامور شوی وی په هغه کښی تګی برګی وکړی یا د پاک رسول اسرار نورو ته ښکاره کړی. یا د غنیمت له مال څخه غلا وکړی. یا د دغو په شان نور ناروا کارونه وکړی. په هر حال په هغو ګردو (ټولو) امانتونو کښی چه د الله جل جلاله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم یا د بندګانو له خوا تاسی ته سپارلی

شوی وی له خیانت څخه تاسی ځان وژغورئ (بچ کړئ) په دغو کښی هر قسم حقوق الله او حقوق العباد راغلل. په روایاتو کښی مذکور دی چه د بنی قریظه یهودان کله چه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د خندق یا د احزاب د غزا په پای (اخر) د هجرت په پنځم کال کښی د روغی او د دی خبری غوښتنه وکړه «چه له دوی سره دی همغه سلوک وکړ شی چه بنی نضیر سره شوی دی» او رسول الله مبارک ارشاد وفرمایه چه «زه تاسو ته دومره حق درکوم چه سعد بن معاذ رضی الله تعالیٰ عنه خپل حکم او منصف وګرځوئ هر هغه فیصله چه سعد رضی الله تعالیٰ عنه وکړی. همغه ستاسی په نسبت منظوره ده.» بنی قریظه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اجازه حضرت ابولبابه رضی الله تعالیٰ عنه خپل ځان ته وباله ـ او پوښتنه ئی تری وکړه چه ستا رایه په دغی معاملی کښی څه ده؟ آیا مونږ دسعد بن معاذ حکمیت ومنو؟ څرنګه چه د ابولبابه رضی الله تعالیٰ عنه اموال او اهل او عیال په بنی قریظه ؤ کښی پراته وو نو ځکه ده د هغوی خیر غوښت. نو ابو لبابه رضی الله تعالیٰ عنه خپلی مری ته اشاره وکړه او په خپل حلقوم باندی ئی ګوته راښکوله یعنی که د سعد بن معاذ رضی الله تعالیٰ عنه حکمیت تاسی ومانه نو دغه ستاسی قتل او حلالول دی. اګر که ابو لبابه رضی الله تعالیٰ عنه خپله اشاره وکړه مګر سم د لاسه متنبه او پښیمان شو، چه ولی می له الله جل جلاله او له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره خیانت وکړ؟ نو بیرته راغی او د مسجد په یوی ستنی پوری ئی خپل ځان تینګ وتاړه او له خوړلو او څښلو ئی قسم وکړ ـ چه تر مرګه پوری به نه خورم او نه څښم یا دا چه الله تعالیٰ زما توبه قبوله کړی. اوه، اته ورځی ابو لبابه رضی الله تعالیٰ عنه همغسی تړلی ولاړ ؤ څو د ډیری لوږی او تندی لامله (له وجی) بیخوده شو دلته زیری وروړسید، چه پاک الله ستا توبه ومنله، ده بیا قسم یاد کړ چه زه به هم داسی تړلی اوسم څو می رسول الله مبارک په خپل پاک لاس سره خوشی او ایله نه کړی بیا نو رسول الله صلی الله علیه وسلم تشریف راوړ او په خپل مبارک لاس ئی هغه خلاص کړ الی اخرالقصه! ابن عبدالبر رحمة الله علیه دعوی کوی چه دغه واقعه د تبوک د غزا د نه شریکیدلو لامله (له وجی) واقع شوی ده والله اعلم.

---

وَاعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَآ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَأَوۡلَٰدُكُمۡ فِتۡنَةٞ وَأَنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥٓ أَجۡرٌ عَظِيمٞ ۝٢٨

---

او پوه شئ تاسی چه بیشکه مالونه ستاسی او اولاد ستاسی ابتلاء «ازموینه» ده او بیشکه الله په نزد د ده اجر «ثواب» ډیر لوی دی. «بهتر له هر شی نه نو په طلب کښی ئی اوسئ».

---

**تفسیر:** یعنی ستاسی اموال او اولاد فتنه ده چه مو منع کوی له کارونو د آخرت څخه او سبب

دی د واقع کیدلو ستاسی په گناه او په عذاب کښی یا سبب دی د محنت چه تاسی الله تعالیٰ پری ازموئی نو له ډیره محبته د دوی خیانت مه کوئ انسانان علی الاکثر د مال او اولاد لامله (له وجی) له نورو بندگانو څخه غلا کوی، نو ځکه ئی تنبیه وفرمایله چه د امانتداری هغه قدر او قیمت او لوړوالی چه د الله تعالیٰ په دربار کښی شته، هغه په دنیوی مال او اولاد او نورو شیانو کښی له سره نشته.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَتَّقُواْ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّكُمۡ فُرۡقَانٗا وَيُكَفِّرۡ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡۗ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٢٩﴾

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی «یعنی ای مؤمنانو» که وویرېږئ تاسی له الله (او پرهیزگاری اختیار کړئ له گناهونو څخه) وبه کړی ستاسی له پاره فیصله «د مؤمنانو په عزت او د کافرانو په ذلت» او لری به کړی له تاسی گناهونه ستاسی او مغفرت به وکړی تاسی ته؛ او الله څیښتن (خاوند) د فضل «رحمت، احسان» ډیر لوی دی.

**تفسیر:** یعنی که له الله تعالیٰ څخنی وویرېږئ! او د تقویٰ لاره غوره کړئ! نو الله تعالیٰ به تاسی او ستاسی د مخالفانو په منځ کښی فیصله وکړی. په دنیا کښی به تاسی ته عزت درکړی. او هغوی به ذلیل یا هلاک کړی. لکه چه په بدر کښی ئی وکړ او په آخرت کښی به هم تاسی ته دائمی نعیم درکوی. او د هغوی د هستوگنی ځای به دائمی جحیم وی ﴿وَٱمۡتَٰزُواْ ٱلۡيَوۡمَ أَيُّهَا ٱلۡمُجۡرِمُونَ﴾ «۲۳ جزء د یٰس ۵۹ آیت ٤ رکوع» ﴿هَٰذَا يَوۡمُ ٱلۡفَصۡلِۖ جَمَعۡنَٰكُمۡ وَٱلۡأَوَّلِينَ﴾ «۲۹ جزء د المرسلات ۳۸ آیت اوله رکوع» بله خبره دا ده چه د تقویٰ له برکته به الله تعالیٰ ستاسی په زړونو کښی یو نور «رڼا» اچوی چه د هغی په وسیله تاسی ذوقاً او وجداناً د حق او باطل او د نیک او بد په منځ کښی به فیصله وکړی شئ! برسیره پر دی حضرت شاه صاحب دا خبره هم لیکلی ده چه «ښائی په بدر کښی به د مسلمانانو په زړونو کښی گرځیدلی وی چه دغه بری خو اتفاقی دی نو ښایی چه له رسول الله مبارک څخه په پټه او په مخفی ډول (طریقه) موږ له کفارو سره څه احسان وکړو، څو دوی زموږ کورونو ته په مکه معظمه کښی څه زیان ونه رسوی. او زموږ اهل او عیال ونه ربړوی (تکلیف نه کړی) نو په ړومبنی آیت کښی ئی د خیانت منعه وفرمایله. او په دوهم آیت کښی ئی تسلی ورکړه چه وروسته له دی نه به فیصله کیږی. او ستاسی کور کهول به هم داسی د کفارو په لاسونو کښی گرفتار نه پاتی کیږی.» او در به کړی تاسی ته «فرقان» یعنی هدایت چه په هغه سره به حق له باطله بیلوئ! یا د دارینو نجات، یا نصرت پر دښمنانو یا خلاصی له شبهاتو ـ یا ستاسی ظهور او شهرت په تمام عالم کښی ».

وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ يُخْرِجُوكَ ۚ وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ اللَّهُ ۖ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ ﴿٣٠﴾

او «یاد کړه ای محمده!» هغه وخت چه مکر فریب به کاوه له تاسره هغو کسانو چه کافران شوی وو له پاره د دی چه بندی کړی تا یا ووژنی تا یا وباسی تا «له مکی نه» او پټ فریب کوی دوی «له تاسره» او جزا د فریب ورکوی الله «دوی ته» او الله بهتر د جزا ورکوونکو د مکر دی.

**تفسیر:** پخوا له هجرته د مکی معظمی کفار په «دارالندوه» کښی سره تول شول او مشوره ئی سره وکړه چه د محمد صلی الله علیه وسلم په نسبت څه وکړی شی چه د هغه له لاسه د کفارو ګرد (تول) قوم ډیر پریشان او سربداله شوی دی. او د نورو ملکونو ځینی خلق هم د ده په لومه کښی درګرده نښلی که دغه وضعیت هم داسی دوام وکړی هغه ورځ به لری نه وی چه محمد صلی الله علیه وسلم به ورو ورو داسی یو لوی قوت پیدا کړی، چه له هغه سره به مقابله خورا (ډیر) ګران وی.

په دغه وخت کښی د کفارو آراء او نظریی د محمد صلی الله علیه وسلم په نسبت مختلفی او راز راز (قسم قسم) وی ځینو به ویل چه «بندی دی کړی شی او ښه دی ځوبل هم کړی شی!» د ځینو رأیه داسی وه چه «له وطنه دی وشړل شی! چه مونږ د تل له پاره د ده له اندیښنی څخه نجات ومومو!» په پای (اخر) کښی د ابوجهل له رایی سره موافقه داسی فیصله وشوه چه «د عربو د ګردو (تولو) قبائلو څخه دی یو یو زړور ځلمی انتخاب او غوره شی! او دغه قوی او پیاوړی (بهادر) ځلمیان دی سره تول لاس یو کړی! او یو ځلی دی په خپلو تورو سره پر محمد صلی الله علیه وسلم باندی ګزار وکړی! څو بنی هاشم له ګردو (تولو) عربو سره جنګ ونه کړی شی او پر عربو باندی د محمد صلی الله علیه وسلم دیت واوړی. او پر ګردو (تولو) قبیلو باندی وویشل شی.»

دلته دغه بد بختان د دغو تدبیرونو په ترلو کښی مصروف وو، له بل لوری د دوی پر خلاف د الله تعالیٰ ډیر ښه او لطیف تدبیر خپل کار کاوه. محمد صلی الله علیه وسلم ته پرښتو اطلاع ورکړه چه «په خپله بستره باندی حضرت علی کرم الله وجهه ویده کړئ او د دغی تولنی په سترګو کښی چه ستاسی د قتل له پاره سره تول شوی دی خاوری واچوئ! او د باندی د هجرت په قصد ووځئ!» داده اوسئ! چه ستاسی او حضرت علی کرم الله وجهه یوه ویښته ته به هم هیڅ ضرر او نقصان ونه رسیږی او ستاسی ګرد (تول) دښمنان به زیانمن او نا امیده شی. لکه چه هم دغه کسان د بدر په غزا کښی ووژل شول چه په «دارالندوه» کښی ئی زمونږ د محمد رسول الله

صلی علیه وسلم د قتل مشوره سره کړی وه.

اوس دلته پاک الله هم دغه واقعه بیانوی کله چه الله تعالیٰ له چاسره مل وی

نو د هیچا له لاسه هیڅ نه کیږی. که لښکری درسره وی یک تنها ئی

چه الله درسره مل نه وی «رحمانه»!

همغسی چه الله تعالیٰ خپل پاک رسول ته نجات ورکړ، ستاسی د هغه اهل او عیال او کور کهول حفاظت چه په مکه معظمه کښی دی، هم الله تعالیٰ کوی.

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا قَالُوا قَدْ سَمِعْنَا لَوْ نَشَاءُ لَقُلْنَا مِثْلَ هَٰذَا ۙ إِنْ هَٰذَا إِلَّا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿٣١﴾

او کله چه ولوستلی شی پر دوی باندی آیتونه زمونږ نو وائی دوی به تحقیق واوریده مونږ «دغه کلام» که وغواړو مونږ نو خامخا ویه وایو مونږه هم په مثل د ده نه دی دغه «کلام» مگر خو دی د دروغو لیکل (او باطل احوال) د پخوانیو.

**تفسیر:** نضر بن الحارث به ویل که مونږ وغواړو نو د قرآن په شان کلام جوړولی شو. په دغه قرآن کښی خو پرته (علاوه) له چتی (بیکاره) قصو او له کاره وتلو افسانو څخه بل شی نشته مگر پاک قرآن هم د گردو (تولو) جگړو فیصله پر هم دغی خبری کړی ده چه ده بیا ولی دغه خپله ادعا پای (اخر) ته ونه رسوله؟ یو چا وویل چه زما آس که وځغلی په یوه ورځ کښی له کابله تر واشنگتنه پوری رسیدی شی، مگر ځغلیدلی نشی یو بل وویل چه ما سل گزه توپ وهلی دی بل ورته وویل دا گز دا ئی میدان. په هر حال دا چه کفارو به د پخوانیو اقوامو د احوالو د اوریدلو په وخت کښی ویل چه دغه گردی (تولی) چتی (بیکاره) قصی او افسانی دی اوس په بدر کښی گرد (تول) سره ولیدل شول، چه هغه خو یواځی افسانی نه وی. د عذاب هغه وعده پر تاسی باندی هم راغلی ده لکه چه پر پخوانیو مکذبینو اقوامو راغلی وه.

وَإِذْ قَالُوا اللَّهُمَّ إِنْ كَانَ هَٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا

حِجَارَةً مِّنَ السَّمَآءِ اَوِ ائۡتِنَا بِعَذَابٍ اَلِيۡمٍ ﴿۳۲﴾

او «یاد کړه» هغه وخت چه وویل دغو «کفارو» یا الله! که چیری وی دغه «قرآن یا دین» هم دغه حق «لکه چه محمد یی وایی نازل شوی» له نزده ستا نو راووروه پر مونږ باندی کانی له آسمانه یا راوړه «راولیږه» «بل کوم قسم» عذاب دردناک.

تفسیر: په دغه آیت کښی د مکی معظمی د مشرکانو د انتهائی جهل او شقاوت او عناد او بغاوت اظهار دی. یعنی دوی به ویل چه یا الله که په واقع کښی هم دغه محمدی دین چه مونږ په دغومره اوږده موده کښی په دیر شد او مد سره د هغه په تکذیب کښی لګیا یو حق وی، نو ولی د عذاب په نزول کښی دومره ځنډ (تاخیر) کیږی؟ او ولی د تیرو اقوامو په شان پر مونږ باندی د کانو باران نه وریږی؟ یا د هغوی په شان په بل کوم عذاب مونږ ولی نه اخته کیږو؟ یا زمونږ بیخی استیصال او بیخ کنی ولی نه کیږی؟ ولی مو بیخ او بکر له سته نه باسی؟ وائی چه دغه دعاء ابوجهل د مکی معظمی څخه د وتلو په وخت کښی کعبی شریفی ته مخامخ کړی وه. بالاخر هغه شی ئی چه غوښتی ؤ د هغه یوه نمونه ئی په بدر کښی ولیده، او دی په خپله سره له «۶۹» تنو نورو مشرانو د کمزورو او بی وسلی او بی سامانه مسلمانانو له لاسه ووژلی شو. او اویا تنه نور مشران هم د اسارت او بندی توب په ذلت کښی ګرفتار شول او په دغه ډول (طریقه) سره الله تعالیٰ د دغو کفارو بیخ او بنسټ (بنیاد) وویست. بیشکه د لوط علیه السلام د قوم په شان پر دوی له آسمانه تیږی (ګټیؤ) ونه وریدی، لیکن د یوه موټی شګو په اثر چه د الله تعالیٰ له لوری د محمد صلی الله علیه وسلم په لاس پر دوی باندی وشیندلی شوی، هم داسی ولیدلی شوی، لکه د آسمانی تیږو (ګټو) د اورولو یوه وړوکی نمونه. ﴿ فَلَمۡ تَقۡتُلُوۡهُمۡ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ قَتَلَهُمۡ وَمَا رَمَيۡتَ اِذۡ رَمَيۡتَ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ رَمٰى ﴾ (د هم دی سورت ۱۷ - آیت).

«اوس الله تعالیٰ د دغی تیری ښیرا د قبول د مهلت او توقف سبب داسی بیانوی»

وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمۡ وَاَنۡتَ فِيۡهِمۡ ؕ

او نه دی الله چه په عذاب کاندی دوی حال دا چه ته (ای رسوله) په دوی کښی ئی!

تفسیر: سنة الله هم دا دی چه هر کله پر کوم قوم د انبیاؤ علیهم السلام د تکذیب لامله (له وجی) عذاب نازلوی، خپل رسول د دوی له منځه باسی. کله چه الله تعالیٰ محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم له مکی معظمی څخه بیل کړ نو وروسته له هغه د مکی معظمی مشرکان د بدر په

عذاب کښې مبتلا شول.

وَمَا كَانَ اللّٰهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ ﴿٣٣﴾

او (بل دا چه) نه دی الله عذابوونکی د دوی حال دا چه دوی مغفرت غواړی.

**تفسير:** يعنی په دوی کښې مستغفران دی هغه ضعفاء د مومنانو چه په دوی کښې پاتی شوی دی، يا دوی په خپله استغفار وائی نو ځکه عذاب پری نه راځی ولی چه دوه شيان د عذاب د نزول مانع دی

(۱): د يو قوم په منځ کښې د رسول موجوديت

(۲): استغفار يعنی په مکی معظمی کښې دمحمد صلی الله عليه وسلم د قدم له برکته عذاب نه نازليده ـ اوس پر هغوی باندی عذاب راغی. هم داسی تر هغه پوری چه گنهگار نادم وی او توبه باسی نو نه نيول کيږی اگر که دير لوی گنهگار هم وی. رسول الله مبارک فرمايلی دی چه د گنهگارانو پناه دوه شيان دی «۱»: زما وجود.

«۲»: استغفار. کذا فی الموضح.

**تنبيه:** د ﴿ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ ﴾ هغه معنی چه محقق شيخ الهند رحمة الله عليه کړی ده د ځينو مفسرينو له تفسيره سره موافقه ده. ليکن د اکثرو په نزد د دغه مطلب داسی دی چه مشرکينو هر قسم خارق العادة عذاب چه غوښت چه گرد (تول) قوم سره يو ځای تباه او برباد شی ـ پر دوی باندی د داسی عذاب له ليږلو څخه دوه شيان ممانعت کوی

«۱»: د رسول الله صلی الله عليه وسلم مبارک وجود، چه د هغوی له برکته پر دغه امت باندی که څه هم (امت دعوت) وی هسی خارق العادة مستاصل او بيخ ايستونکی عذاب نه راځی. که کوم وخت پر افرادو او آحادو باندی راهم شی نو هغه د دی کليی قاعدی منافی نه دی.

«۲»: د استغفار کوونکو موجوديت، اعم له دی چه مسلم وی يا غير مسلم لکه چه منقول دی د مکی معظمی مشرکينو به هم په تلبيه او طواف او نورو کښې غفرانک ! غفرانک ! ويل باقی د غير خارق او معمولی عذاب لکه قحط، وباء قتل کثير او د نورو نزول د رسول او د ځينو مستغفرينو (بخنه غوښتونکی) له موجوديت سره هم ممکن دی. بالاخر کله چه دغه خلق خورا (زيات) دير شرارتونه وکړی نو د الله تعالیٰ له لوری به په جزاء سره ولی متنبه نشی؟ وروسته له دی نه د دوی همغه عقوبت بيانوی.

وَمَا لَهُمْ اَلَّا يُعَذِّبَهُمُ اللّٰهُ وَهُمْ يَصُدُّوْنَ عَنِ الْمَسْجِدِ

الْحَرَامِ وَمَا كَانُوٓا أَوْلِيَآءَهُۥٓ ۚ إِنْ أَوْلِيَآؤُهُۥٓ إِلَّا ٱلْمُتَّقُونَ وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٤﴾

او څه دی دوی ته چه به نه په عذابوی دوی الله (پس له وتلو ستا او مومنانو له دوی نه) حال دا چه دوی منع کوی (خلق) له «دخول د» مسجد حرام څخه او نه دی دوی واکداران د دغه (مسجد حرام) نه دی واکداران د ده مگر «دی» متقیان او لیکن اکثر د دوی نه پوهیږی (په دی چه دوی لره واکداری نشته).

**تفسیر:** یعنی د عذاب نه راتلل بنا پر هغو دوو سببونو دی چه پاس مذکور شول که نه ستاسی شرارتونه او ظلم او شقاوت داسی شیان دی چه د هغو په مقابل کښی ښائی فوراً عذاب راشی له دی نه به زیات ظلم څه وی چه موحدین حرم شریف ته له راتګ او د خدای له عبادت څخه په راز راز (قسم قسم) پلمو (تدبیرونو) او حیلو منع کوی، او دوی هلته نه پریږدی چه لاړ شی ـ بلکه دوی له خپل وطنه مکی معظمی څخه باسی. او تل کوښښ کوی چه د الله تعالیٰ دغه پاک او عبادت کوونکی بندګان د همیشه له پاره دلته رانشی. د دوی لوی ظلم او تیری دا دی چه د دی ظلم د جواز له پاره دغه سند وړاندی کوی چه مونږ د حرم شریف متولیان او واکداران یو، هر چا ته چه زړه مو وغواړی د راتلو اجازه ورکوو، یا ئی نه پریږدو چه راشی او دغه د دخول او عدم دخول اجازه زمونږ په واک او اختیار کښی ده. حال دا چه اول دغه حق او اختیار متولی ته نشته چه خلق د مسجد له لمانځه او عبادت څخه منع کړی. او بل د «تولیت» حق هم دوی ته نه رسیږی، ځکه چه د حرم شریف متولی یوازی متقیان او پرهیزګاران کیدی شی، مشرک او بد عمل سړی له سره د هغه حقدار نشی کیدی لیکن له دوی څخه ځینی کسان علی الاکثر له خپله جهالته داسی وایی چه مونږ د حضرت ابراهیم علیه السلام اولاده یو. او له فلانی قبیلی څخه یو، او د کعبی شریفی «تولیت» زمونږ موروثی حق دی، چه د هغه له پاره کوم خاص قید او شرط نه دی په کار ـ نو دائی راوښوول چه په اولاده د ابراهیم علیه السلام کښی دغه حق د هغه کیدی شی چه متقی وی ـ او د داسی بی انصافانو حق نشی کیدی چه له هر چا څخه چه دوی خپه وی، نو هغه ته د کعبی شریفی د راتللو اجازه نه ورکوی.

وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِندَ ٱلْبَيْتِ إِلَّا مُكَآءً وَتَصْدِيَةً ۚ فَذُوقُوا۟ ٱلْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿٣٥﴾

او نه ؤ لمونځ (عبادت) د دغو «کفارو» په نزد د کعبې کښې مګر شپیلې
وهل او لاسونه ټکول؛ «الله فرمائي» نو وڅکئ تاسې عذاب په سبب د هغه چه
وئ تاسې چه کفر به مو غوره کاوه.

**تفسیر:** یعني حقیقي لمونځ کوونکي له مسجده منع کوي، نو په خپله د دوی لمونځ به څه ارزښت (قیمت) ولري؟ د کعبې شریفې بربند طواف کول ـ د ذکر الله په ځای شپیلې وهل او لاسونه ټکول، لکه چه نن هم ډیر اقوام ناقوس وهل او زنګونه شرنګول لوی عبادت ګڼي الغرض نه دوی په خپله عبادت کوي نه نور خلق پریږدي چه عبادت وکړي، او دغه بې معنی او چټي (بیکاره) خبرې عبادت ګڼي. ځینې وائي چه دغه شپیلې وهل، او لاسونه ټکول، د دې دپاره ؤ، چه د مسلمانانو په عبادت کښې خلل واچوي او د تمسخر او استهزاء (توکے ټکالے) له لارې به ئې داسې کول والله اعلم، «نو الله تعالیٰ فرمائي کله چه ستاسې دا نیت او عمل ؤ نو پس وڅکئ عذاب د قتل او د بند په ورځ د بدر کښې ؛ او «زقوم» او اور او نور په آخرت کښې».

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ ۚ

بیشکه هغه کسان چه کافران شوي دي نفقه کوي «لګوي» دوی مالونه خپل
دپاره د دې چه منع کړي دوی (خلق) له لارې د الله څخه.

**تفسیر:** د بدر په غزا کښې د کفارو له مشرانو ځنې دولسو سردارانو دا په غاړه اخیستې وه چه هر یو تن به په یوه ورځ کښې ګردو (ټولو) لښکرو ته ډوډې پخوي؛ لکه چه لس اوښان به هره ورځ د یوه له لورې حلالیدل او پر لښکرو به خوړل کیدل ـ بیا چه دوی ماتې ومونده نو د دغه مات شوي لښکر مجمع کله چه مکې معظمې ته ورسیده، ابو سفیان او د کفارو نورو مشرانو ته ئې وویل هغه مال چه تجارتي قافلې له شامه راوړی دی، هغه دې ګرد (ټول) د اسلام پر خلاف، او له محمد څخه د انتقام اخیستلو په لاره کښې ولګاوه شي! لکه چه پر دغه خبره ګرد (ټول) سره راضي شول، نو د داسې مال لګولو ذکر په دغه آیت کښې راغلی دی.

فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَ ۗ وَالَّذِينَ كَفَرُوا
إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ ﴿٣٦﴾

نو ژر به نور هم ولګوي دغه مالونه بیا به شي «دغه انفاق» پر دوی حسرت
(پښیمانی چه مال ئې ځی او مطلب ئې پرې نه حاصلیږي) بیا به په آخر

کښې مغلوب شي؛ او هغه کسان چه کافران شوي دي (او په کفر کښې مړه شي) دوزخ ته شړلی «بیولی» کیږي.

**تفسیر:** یعني کله چه په دنیا کښې مغلوب او مقهور، او په آخرت کښې معذب شي، نو د افسوس او حسرت لامله (له وجې) به خپلې ګوتې چیچي ـ چه مال مو هم له لاسه ووت ـ او برې مو هم په برخه نشو. لکه چه ړومبی په بدر کښې او بیا په احد او نورو غزاګانو کښې د کفارو ګرد (تول) مالي او جسماني قوتونه صرف شول، او هیڅ یوه ګټه (فائده) ئې په لاس ورنغله او بالاخر هلاک یا د رسوایي په حال کښې له کفره توبه ګار شول.

(او دغه مغلوبیدل د کفارو او شړل د دوی د جهنم په لوری)

لِيَمِيزَ اللّٰهُ الْخَبِيثَ مِنَ الطَّيِّبِ وَيَجْعَلَ الْخَبِيثَ بَعْضَهُ عَلٰى بَعْضٍ فَيَرْكُمَهُ جَمِيعًا فَيَجْعَلَهُ فِي جَهَنَّمَ ؕ أُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُونَ ﴿٣٧﴾

دپاره د دې دی چه بیل کړي الله خبیث «ناپاک کافر»، له طیب «پاک مؤمن» څخه او بیا کیږدي خبیث (ناپاک سره لاندې باندې) ځینې د ده په ځینو نورو باندې نو راجمع به کړي دا «خبیثان» تول نو وبه ئې غورځوي په دوزخ کښې؛ دغه (خبیثان یا مال لګوونکي) هم دوی زیانکاران دي.

**تفسیر:** په «موضح القرآن» کښې دي چه الله تعالیٰ به ورو ورو اسلام غالبوي. په دغه ضمن کښې به کافران خپل بدني او مالي زور لګوي، چه نیک او بد سره بیل شي، یعني د هغو په قسمت کښې چه اسلام لیکلی شوی دی، هغوی به ګرد (تول) مسلمانان کیږي، او د هغوی مرګ چه په کفر کښې لیکلی شوی دی، هغوی به ګرد (تول) په کفر کښې مري، او تول به دوزخ ته لاړ شي. «هم دغه خبیثان یا مال لګوونکي هم دوی زیانکاران دي» یعني د دنیوي او اخروي دواړو قسمونو نقصان او خساره ئې وموندہ.

قُلْ لِّلَّذِينَ كَفَرُوٓا إِنْ يَّنْتَهُوا يُغْفَرْ لَهُمْ مَّا قَدْ سَلَفَ ۚ وَإِنْ يَّعُودُوا فَقَدْ مَضَتْ سُنَّتُ الْأَوَّلِينَ ﴿٣٨﴾

وواپه (ای محمده!) هغو کسانو ته چه کافران شوي دي، که واوري «بس

کړی له کفره» نو وبه ښېنلی شي دوی ته هغه بدی چه په تحقیق پخوا تیری شوی وی، او که بیا وګرځی (کلک شي په کفر او جنګ) نو په تحقیق تیره شوی ده لاره (عادت د الله په حق) د پخوانیو «په نجات د مؤمنانو او هلاک د کافرانو».

**تفسیر:** یعني که اوس هم له کفره او طغیانه او د اسلام له عداوته لاس واخلی، او د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت اختیار کړی، نو ږومبی د کفر په حالت کښی څه ګناه او معاصی چه دوی کړی وی، هغه ګردی (تولی) ورمعافیږی. الاسلام یهدم ماکان قبله. هو! حقوق العباد به نه ورمعافیږی، ځکه چه د هغو مسئله خو بیله ده. او که بیا عود وکړی قتل او عداوت او کفر او معصیت ته نو په تحقیق تیره شوی ده لاره عادت د الله په حق د پخوانیو کښی یعني څرنګه چه د پخوانیو رسولانو علیهم السلام له تکذیبه او عداوته خلق تباه شوی دی، په دوی به هم تباهی راځی. یا دا مطلب دی لکه چه په بدر کښی د دوی نورو خپلوانو ته سزا ورکړی شوه، دوی ته به هم سزا ورکړی شي.

وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ ۚ فَإِنِ انْتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٣٩﴾ وَإِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَوْلَاكُمْ ۚ نِعْمَ الْمَوْلَىٰ وَنِعْمَ النَّصِيرُ ﴿٤٠﴾

او وجنګیږئ (ای مؤمنانو!) له دغو «کفارو» سره تر هغه پوری چه نشي پاتی فتنه «فساد په ځمکه کښی» او شي دین «حکم» تول خاص الله لره (او نور تول باطله ادیان ورک شي) نو که واوړی دوی «له کفره او اسلام راوړی» نو بیشکه الله پر هغو عملونو چه دوی ئی کوی ښه لیدونکی (بینا دانا) دی. او که مخ وګرځوی دوی «له ایمانه» نو پوه شئ «ای مؤمنانو!» چه بیشکه الله مولیٰ «بادار ساتونکی» ستاسی دی (الله) ښه مولیٰ «او نیک بادار حامی او ساتونکی» دی او «الله نیک» او ښه مددګار دی.

**تفسیر:** یعني تر هغه پوری له کفارو سره وجنګیږئ چه په ځمکه کښی فتنه او فساد پاتی نشي، او د کافرانو زور پاتی نشي چه له ایمانه خلق منع کړی یا د حق دین له محو کولو څخه

مسلمانان وویرېږي چه که اظهار ئې وکړو وبه وژلی شو لکه چه تاریخ شاهد دی څه وخت چه غلبه او قوت د کفارو په لاس ورته، نو د مسلمانانو ایمان او مذهب به په خطر کښې لویده، د «هسپانیې (اسپین)» مثال دنیا ته څرګند (ښکاره) دی چه وروسته له دی نه چه قوت او قدرت د مشرکانو په لاس ورغی، دوی په څه ډول (طریقه) د(هسپانیې) مسلمانان تباه یا مرتدان کړل، په هر حال د «جهاد» او قتال ړومبنی مقصد هم دا دی چه د اسلام اهل دی مامون او مطمئن وی او د الله تعالیٰ عبادت په ښه شان سره وکړی شي. او د ایمان او توحید دولت د کفارو له لاسونو محفوظ شي او د اسلام کلمه علیاء او لوړه شي او اسلامی بیرغ مرتفع او لوړ شي لکه چه د(فتنه) هم دغه تفسیر د احادیثو په کتابونو کښې له ابن عمر او نورو اصحابو رضوان الله تعالیٰ علیهم اجمعین څخه هم منقول دی».

﴿ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ ﴾ او جهاد وکړئ څو شي دین او حکم ټول خاص الله لره او نور باطل ادیان ورک شي) دا د جهاد وروستني مقصد دی چه د کفر شوکت پاتی نشي او یوازی د الله تعالیٰ حکم جاری وی او د اسلام حق دین پر ګردو (ټولو) ادیانو غالب شي. ﴿ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ ﴾ اعم له دی نه چه د نورو ادیانو په موجودیت کښې وی. لکه چه د راشده ؤ خلفاؤ په وخت کښې شوی ؤ. یا ګرد (ټول) باطله مذاهب له منځه ورک کړی، لکه چه د مسیح علیه السلام له نزول څخه وروسته کیږی. په هر حال دغه آیت د دی خبری واضح دلیل دی چه جهاد او قتال عام له دی نه چه تعرضی وی که دفاعی مسلمانانو له پاره تر هغه وخته پوری مشروع دی تر څو چه دغه دواړه عالی مقصدونه پوره شوی نه وی، ځکه د حضرت نبوی صلی الله علیه وسلم په حدیث کښې راغلی دی «الجهاد ماض الی یوم القیامة» حاصل «د جهاد احکام او شرائط او نور تفصیلات دی په فقهی کتابونو کښې وکتل شي!».

﴿ فَإِنِ انْتَهَوْا ﴾ الآية - نو که واوړی دوی له کفره او اسلام راوړی نو بیشکه الله پر هغو عملونو چه دوی ئې کوی ښه لیدونکی بینا دانا دی.» یعنی له هغو سره چه په ښکاره ډول (طریقه) له کفره او شرارته بیرته وګرځی قتل نشته. د دوی د زړونو حال، او د مستقبل کیفیات دی الله تعالیٰ ته وروسپارل شي! هر ډول (طریقه) عمل او کار چه دوی وکړی، هغه د پاک الله له علمه نه پټیږی او ټل ورته معلوم دی. مسلمان یوازې له ظاهری حال سره موافق پر عمل کولو مکلف دی. وفی الحدیث «**امرت ان اقاتل‌الناس حتیٰ یقولوا لا اله الا الله، فاذا قالوها عصموا منی دماءهم واموالهم الا بحقها، وحسابهم علی الله عز وجل**» - زه مامورېم په دی چه جهاد وکړم د خلقو سره تر هغه چه ووائی دوی کلمه د **لا اله الا الله** نو کله چه وویله دوی دا کلمه نو وئې ساتلی ځما نه وینی خپلی «چه نه به وژل کیږی» او مالونه خپل مګر په حق سره «چه قصاص دی» او حساب د دوی سپارلی شوی دی الله عزوجل ته (که ئې ښښی یا ئې نه ښښی).

﴿ وَإِنْ تَوَلَّوْا ﴾ الآية - او که مخ وګرځوی دوی له ایمانه نو پوه شئ تاسی چه بیشکه الله مولیٰ، بادار، حامی او ساتونکی ستاسی دی الله ښه مولیٰ نیک بادار ساتونکی دی او الله نیک او ښه مددګار دی.» یعنی مسلمانانو ته ښائی چه د الله تعالیٰ په مرسته (مدد) او حمایت باندی

اطمینان او اعتماد ولری! او جهاد وکړی! د کفارو له کثرت او د دوی له وسلو او سامان او اسباب څخه دی له سره ونه ویرېږی! لکه چه د بدر په غزا کښی ئی ولیدل، چه الله تعالیٰ د مسلمانانو څومره ښه مرسته (مدد)، حمایت او امداد وفرمایه! **(علمنا ان الله مولٰینا نعم المولیٰ ونعم النصیر.)**

وَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَاَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهٗ وَ
لِلرَّسُوْلِ وَلِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ
السَّبِيْلِ ۙ اِنْ كُنْتُمْ اٰمَنْتُمْ بِاللّٰهِ وَمَآ اَنْزَلْنَا عَلٰى عَبْدِنَا يَوْمَ
الْفُرْقَانِ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعٰنِ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۴۱﴾

او پوه شئ «ای مسلمانانو!» بیشکه هر هغه شی چه په غنیمت واخیست تاسی «له کفارو په غلبی سره» له یوه شی نه نو بیشکه الله لره دی (حکم کول په) خمس د هغه (کښی) او (دغه خمس ثابت دی) له پاره د رسول (د الله) او له پاره د خپلوانو (د رسول الله) او (له پاره د) یتیمانو او (له پاره د) مسکینانو (محتاجانو) او (له پاره د) مسافرانو «او پاتی څلور برخی دی له پاره د غازیانو او صبر وکړئ پر دغه تقسیم ای مقاتلانو!» که ایمان لرئ په الله او په هغو «آیتونو یا ملایکو یا نصرت» چه نازل کړی دی مونږ پر بنده خپل په ورځ د فیصلی کښی (د حق له باطل څخه چه د (بدر ورځ وه) هغه ورځ چه سره مخامخ شولی دواړه جمعی (ډلی)؛ او الله پر هر شی باندی (چه اراده وفرمائی) ښه قادر دی (چه ځینی ئی غلبه د لږو پر ډیرو ده).

**تفسیر:** د دی سورت په ابتداء کښی ئی فرمایلی ؤ ﴿ قُلِ الْاَنْفَالُ لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ ﴾ دلته د هغه لږ څه تفصیل کوی چه هغه د غنیمت مال چه د کفارو له جنگه وروسته د مسلمانانو په لاس راشی د هغه خمس او پنځمه برخه د الله تعالیٰ نیاز دی چه هغه رسول الله د پاک خدای د نائب (بمعنی رسول) په حیثیت وصوله‌وی، او دی ئی پر دغه پنځو مصرفونو لګوی شی:

«۱»: په خپل ځان باندی.

«۲»: پر خپلو خپلوانو باندی چه بنی هاشم او بنی المطلب دی چه له پخوا راهیسی دوی د الله تعالیٰ په لاره کښی کار او د رسول الله صلی الله علیه وسلم نصرت او امداد ئی کړی دی. او د اسلام له خاطره یا یوازی د قرابت او خپلوی له وجی له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ئی مرستی (مدد) کړی دی. او د زکوٰة او د نورو صدقاتو اخیستل پر دوی باندی حرام شوی دی.

«۳»: پر یتیمانو پلار مړیو باندی.

«٤»: پر محتاجانو مسلمانانو باندی.

«٥»: پر مسافرانو باندی بیا هغه نور څلور برخی غنیمت چه پاتی کیږی پر غازیانو باندی

تقسیم کیږی سور ته (سوا) دوی برخی او پلی (پیاده) ته یوه برخه ورکوله کیږی د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له وفات څخه وروسته د خمس د دغو پنځو مصارفو څخه زمونږ حنفیانو په نزد یوازی یتیمان، محتاجان او مسافران چه ګرد (تول) سره دری کیږی پاتی دی. ځکه چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات څخه وروسته د دوی د ذات مصارف نه دی پاتی او نه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اهل القرابت هغه برخه پاتی شوه چه دوی ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پخوانی نصرت او امداد په بناء ورکوله کیده. هو! د مساکینو او محتاجانو له هغو برخو څخه چه دوی ته مقرری دی د رسول الله مبارک مساکین او اهل الحاجت خپلوان ښائی مقدم وګڼل شی، د ځینو علماؤ په نزد د رسول الله صلی الله علیه وسلم له رحلت څخه وروسته د امیر المؤمنین د مصارفو له پاره ښائی چه خمس الخمس ورکړ شی. والله اعلم په ځینو روایتونو کښی راغلی دی کله چه له غنیمت څخه خمس د الله تعالیٰ د نامه پنځمه برخه ایستله کیده نو نبی کریم علیه افضل الصلواة والتسلیم اول به هغه کښی څه برخه د بیت الله کعبی شریفی له پاره بیلوله. ځینو فقهاؤ لیکلی دی چه په هغو ځایونو کښی چه له کعبی شریفی څخه لری وی، څه برخه دی د مساجدو له پاره هم بیله شی!. له ﴿ يَوْمَ الْفُرْقَانِ ﴾ د فیصلی له ورځی څخه مراد یوم البدر دی چه په هغه کښی د حق او باطل ښکاره فیصله وشوه په دغه ورځ کښی حق تعالیٰ خپل دیر کامل بنده محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ته بری، فتح او نصرت ورکړ، او د ملائکو امداد یی ورولیږه او د سکون او اطمینان کیفیت ئی نازل وفرمایه. نو هغه کسان چه پر الله تعالیٰ او د الله تعالیٰ پر غیبی تائیداتو ایمان لری، نو پر دوی باندی له غنائمو څنی د الله تعالیٰ پر نامه «خمس - پنځمه برخه» ایستل دومره دروند نه ښکاری. ﴿ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴾ او الله پر هر شی باندی چه اراده ئی وفرمائی ښه قادر دی چه ځینی ئی غالبول د لږو دی پر دیرو باندی» یعنی لکه چه الله تعالیٰ په هغه ورځ کښی تاسی مظفر او منصور ګرځولی یئ هم دا اوس او په راتلونکی زمانه او په هر وخت کښی ښه قادر دی چه تاسی ته غلبه او فتوحات عنایت وفرمائی.

إِذْ أَنْتُمْ بِالْعُدْوَةِ الدُّنْيَا وَهُمْ بِالْعُدْوَةِ الْقُصْوٰى وَ الرَّكْبُ أَسْفَلَ مِنْكُمْ ۚ وَلَوْ تَوَاعَدْتُّمْ لَاخْتَلَفْتُمْ فِى الْمِيْعٰدِ ۙ وَلٰكِنْ لِّيَقْضِيَ اللّٰهُ أَمْرًا كَانَ مَفْعُوْلًا ۙ لِّيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَنْۢ بَيِّنَةٍ وَّيَحْيٰى مَنْ حَيَّ عَنْۢ بَيِّنَةٍ ۗ وَإِنَّ اللّٰهَ لَسَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٤٢﴾

«یاد کړئ ای مسلمانانو» هغه وخت چه وئ تاسی په څنډی (غاړی) د

«کندی» نژدی «مدینی ته» او وو دغه «کفار» په ښندی «د کندی هسی ښنده (غاړه) چه» لری «وه له مدینی نه» حال دا چه سواره «قافله» ښکته وو له تاسی؛ او که یو تر بله وعده کړی وی تاسی (د جنګ) نو خامخا به مخالفت کړی وی تاسی په دغه وعده کښی ولیکن «بی له وعدی جمع کړئ تاسی الله» دپاره د دی چه پوره کړی الله هغه کار چه ؤ مقرر شوی (په ازلی علم د ده کښی چه نصرت د احباؤ او ذلت د اعداؤ دی) لپاره د دی چه هلاک شی هغه څوک چه له شان ئی هلاک وی پس له قیامه د حجت روښان څخه او ژوندی پاتی شی هغه څوک چه له شان ئی ژوندون وی پس له قیامه د روښانه حجت؛ او بیشکه الله خامخا ښه اوریدونکی (د ګردو (تولو) اقوالو) ښه عالم دی «په تولو احوالو».

**تفسیر:** له نژدی ښندی (غاړی) څخه مراد د جنګ د میدان هغه جانب دی چه مدینی طیبی ته قریب ؤ هم داسی له لری ښندی(غاړی) څخه مقصد هغه طرف دی چه له مدینی منوری څخه لری ؤ، یعنی د ابوسفیان تجارتی قافله مخ په ځوړی (خکته) د سمندر په ښنده (غاړه غاړه) کښی تلله، د قافلی او مسلمانانو په منځ کښی د قریشو فوځ حائل شوی ؤ. «او که یو تربله مو وعده کړی وی د جنګ نو خامخا به مخالفت کړی وی تاسی په دغه وعده کښی» یعنی که فریقین له پخوا څخه د جنګیدلو له پاره کوم وخت او نیته مقررول غوښتل، نو ممکن ؤ چه په هغه کښی څه اختلاف واقع کیده یا د وعدی د رسیدلو په وخت کښی به ئی یوه بله وړاندی وروسته کوله، ځکه چه له یوه جانبه مسلمانان د کفارو له تعداد او ظاهری اسلحی او سامان څخه ویره کښی وو. او له بل طرف کفارو د مسلمانانو د حقانیت او الله پرستی او زړور توب ځنی ویریدل نو دواړو ته د جنګ په ذمه واری اخیستلو او د هغه په شرکت کولو کښی تردد او تقاعد پیښیدی شو، (ولیکن بی له وعدی سره جمع کړئ تاسی الله دپاره د دی چه پوره کړی الله هغه کار چه ؤ مقرر شوی په ازلی علم د ده کښی چه نصرت د احباؤ او ذلت د اعداؤ دی له پاره د دی چه هلاک شی هغه څوک چه له شان ئی هلاک وی پس له قیام د روښان حجت څخه او ژوندی پاتی شی هغه څوک چه له شان ئی ژوندون وی پس له قیام د روښانه حجت) یعنی قریش د خپلی قافلی د مدد له پاره او تاسی پر قافلی باندی د حملی کولو له پاره راغلی وئ قافله تیره شوه او دواړه فوځونه د یوه میدان پر دوو ښندو (غاړه) باندی سره ونښتل، حال دا چه یو د بل له حال څخه نه ؤ خبر دغه د الله تعالیٰ تدبیر ؤ که تاسی قصداً ورتلئ نو داسی په مناسب وخت به پر دوی نه رسیدی، او د دغی فتحی څخه وروسته کافرانو ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم صداقت ورښکاره شو۔ هغه چه مړه شول هم په یقین سره پوهیدلی مړه شول، او هغه چه ژوندی پاتی شول هغوی هم حق په ښه دول (طریقه) سره وپیژند او وپوهیدل چه د الله تعالیٰ الزام پوره شو. کذافی الموضح. او ممکن دی له مړکیدلو او ژوندی پاتی کیدلو څخه کفر او ایمان مراد وی ـ یعنی

اوس څوک چه ایمان راوړی ـ او هغه چه په کفر همغسی تینګ پاتی شی، د دواړو ایمان او کفر د حق له ښکاره کیدو څخه وروسته دی. ﴿وَإِنَّ اللَّهَ لَسَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾ او بیشکه چه الله ښه اوریدونکی د ګردو (تولو) اقوالو، ښه عالم دی په تولو احوالو) یعنی الله تعالیٰ د کمزورو مظلومانو فریاد اوریدونکی دی، او دغه خبره هم ورته ښه ورمعلومه ده چه په کومه طریقه سره د دوی امداد وکړی شی وګوریٔ په بدر کښی د مسلمانانو فریاد ئی څرنګه واوریده؟ او په څه دول (طریقه) سره ئی مدد او مرسته (امداد) وکړه؟.

---

إِذْ يُرِيكَهُمُ اللَّهُ فِي مَنَامِكَ قَلِيلًا ۖ وَلَوْ أَرَاكَهُمْ كَثِيرًا لَّفَشِلْتُمْ وَلَتَنَازَعْتُمْ فِي الْأَمْرِ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ سَلَّمَ ۗ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٤٣﴾

---

(یاد کړه) هغه وخت چه وښوول تاته دغه (کفار) الله په خوب ستا کښی لږ؛ (چه اصحاب پری خبر کړی، او دوی پری ډاډه شی او برابر پری ورشی) او که ښوولی وی «الله» تاته «ای محمده!» دوی ډیر (او بیا تا ویلی وی اصحابو ته) نو خامخا بی زړه شوی به وی تاسی (ای اصحابو) او خامخا جګړی به مو کولی په کار کښی «د جنګ چه تری په څنګ شوو یا ورسره جنګ وکړو» ولیکن الله سلامت وساتلیٔ «تاسی له بی زړه توب او نزاع» بیشکه دغه (الله) ښه عالم (دانا) دی پر هغو خبرو (هم) چه په زړونو کښی دی.

---

**تفسیر:** یعنی مسلمانانو ته ښائی چه د الله تعالیٰ پر مدد ـ حمایت او مرسته (امداد) اعتماد ولری، او جهاد وکړی. او د کفارو له کثرت، سامان او وسلو څخنی ونه ویرېږی ـ لکه چه د بدر په غزا کښی مو ولیدل چه الله تعالیٰ له مسلمانانو سره څومره ښه امداد او معاونت وکړ.
﴿وَلَوْ أَرَاكَهُمْ كَثِيرًا﴾ او که ښوولی وی الله تاته دغه کفار ډیر) یعنی که تاسی دوی زیات ګڼلی وی ځینو به د جنګیدلو همت کاوه ـ او ځینو به نه کاوه او داسی اختلاف به واقع کیده او په کار کښی به خلل او بی انتظامی پیدا کیده ـ الله تعالیٰ رسول الله مبارک ته په خوب کښی لږ تعداد وروښود، او له ویری او بی زړه توب څخه ئی وژغورلی (وساتلیٔ) هغه ښه پوهیږی چه له کوم شی څخنی به زړونو کښی همت او شجاعت پیدا کیږی؟ او له کومی خبری څخنی بی زړه توب او ویره پیدا کیږی؟.

---

وَإِذْ يُرِيكُمُوهُمْ إِذِ الْتَقَيْتُمْ فِي أَعْيُنِكُمْ قَلِيلًا وَيُقَلِّلُكُمْ

فِیۡۤ اَعۡیُنِهِمۡ لِیَقۡضِیَ اللّٰهُ اَمۡرًا کَانَ مَفۡعُوۡلًا ؕ وَ اِلَی اللّٰهِ تُرۡجَعُ الۡاُمُوۡرُ ﴿۴۴﴾

او (یاد کړئ) کله چه وښوول تاسی ته «الله» هغه «دښمنان ستاسی» په هغه وخت کښی چه سره مخامخ شوئ په سترګو ستاسی کښی لږ او لږ ښکاره کړئ تاسی (الله) په سترګو د دښمنانو کښی دپاره د دی چه وکړی ته هغه کار چه ؤ مقرر کړی شوی «په ازلی علم د الله کښی» چه وکړی شی «چه هغه نصرت د مؤمنانو او ذلت د کفارو دی» او خاص الله ته بیرته ګرځولی شی تول کارونه.

**تفسیر:** رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په خوب کښی د کفارو شمیر تر نظر لږ راغلی ؤ او مسلمانانو ته هم د مقابلی په وخت کښی لږ ښکاریده څو په جرأت، زړورتیا او میرانی (بهادرئ) وجنګیږی. د رسول الله صلی الله علیه وسلم خوب نشی غلط کیدی ځکه چه په دوی کښی کافر پاتی کیدونکی سری ډیر لږ ؤ، زیاتره هغه کسان وو چه وروسته بیا مسلمانان شول او د خوب تعبیر هم داسی کیدی شی چه د لږ تعداد څخه مراد د دوی د مغلوبیت اظهار وی ـ باقی د کفارو په نظر کښی چه د مسلمانانو تعداد لږ ښکاریده نو هغوی واقعاً لږ وو ـ دا د هغه وخت واقعه ده، کله چه دواړه فوځونه سره مخامخ شول ـ بیا کله چه مسلمانانو په میرانه (بهادری) سره په حملو شروع وکړه، او د پرښتو د لښکر مرسته (مدد) وروړسیده، په دغه وخت کښی د مسلمانانو فوځ د کفارو په سترګو کښی د دوی په نسبت یو په دوه ښکاریده ﴿ وَاُخۡرٰی کَافِرَۃٌ یَّرَوۡنَهُمۡ مِّثۡلَیۡهِمۡ رَاۡیَ الۡعَیۡنِ ﴾ (۳) جزء د آل عمران (۱۳) آیت (۲) رکوع».

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡۤا اِذَا لَقِیۡتُمۡ فِئَةً
فَاثۡبُتُوۡا وَ اذۡکُرُوا اللّٰهَ کَثِیۡرًا لَّعَلَّکُمۡ تُفۡلِحُوۡنَ ﴿۴۵﴾

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو) کله چه مخامخ شئ کوم فوځ «د دښمن» سره (چه جنګ درسره کوی) نو ثابت قدم اوسئ تاسی (او مه تری تښتئ) او یادوئ تاسی الله ډیر (په خوله او زړه) ښائی چه تاسی په مراد ورسیږئ (په بری سره پر دښمن د ذکر په برکت).

**تفسیر:** په دی کښی لمونځ، دعا، تکبیر او نور هر قسم ذکر الله شامل دی د الله د ذکر تاثیر دا دی چه د ذاکر زړه وربانَدی قوی او داده کیږی، چه دغه دادګیرنی ته په جهاد کښی له هر

شي څخه زيات ضرورت شته د اصحابو كرامو رضوان الله تعالىٰ عليهم اجمعين له ګردو (تولو) څخه لويه وسله هم دغه دادينه وه! ﴿ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَتَطْمَىِٕنُّ قُلُوْبُهُمْ بِذِكْرِ اللّٰهِ اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَىِٕنُّ الْقُلُوْبُ ﴾ (۱۳ جزء د «رعد» ٤ ركوع «۲۸» آيت)

---

وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَا تَنَازَعُوْا فَتَفْشَلُوْا وَتَذْهَبَ رِيْحُكُمْ وَاصْبِرُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ۚ﴿۴۶﴾

---

او حكم ومنئ تاسي د الله او د رسول د دغه (الله) او مه كوئ جګړه په خپلو منځونو (په كار د جهاد كښي) پس بي زړه به شئ تاسي او لاړ به شي باد «د نصرت او قوت او د دولت» ستاسي او صبر كوئ (په قتال او سختيو)، بېشكه الله له صابرانو سره دى «په جنګ كښي په نصرت او حفاظت»

---

**تفسير:** يعني ورک به شي زور او قوت ستاسي، او د برى او مرستى (مدد) باد به مو لاړ شي، اقبال او رعب به مو كمېږي، او له بد رعبى څخه به وروسته فتح او ظفر څرنګه حاصلولى شئ؟ هغه تكليفونه او سختى چه د جهاد په وخت كښي وړاندې كېږي هغه په صبر او استقامت سره وګالئ (برداشت كړئ)! او همت او ميړانه (بهادرى) له لاسه مه باسئ متل دى چه (د ميړونو (خاوندانو) مل الله دى). «څوک چه لرى مله څه پروا كوى له غله» په دغه آيت كښي مسلمانانو ته ښوولي شوى دى چه د برى كلي ګاني (چابياني) كوم كوم شيان دى؟ يواځي په دولت، لښكر، جبه خاني، لوازمو او تجهيزاتو سره فتح برى او نصرت نه حاصلېږي؛ بلكه په ثابت قدمى، صبر، استقلال، قوت د زړه داد د الله تعالىٰ او د رسول الله په ياد او د دوى د خليفه ګانو په اطاعت او فرمان بردارى د يو له بل سره په اتفاق او اتحاد سره هم په لاس راځي، په دغه موقع كښي مي زړه بي اختياره وغوښتل چه د اصحاب الكرامو رضى الله عنهم په نسبت د «ابن كثير» څو الفاظ نقل كړم چه د اخلاص او ايمان له انتهائى عمق څخه وتلى دى «وقد كان للصحابة رضى الله عنهم فى باب الشجاعة والائتمار بما امرهم الله ورسوله به وامتثال ما ارشدهم اليه ما لم يكن لاحد من الامم والقرون قبلهم ولا يكون لاحد ممن بعدهم فانهم ببركة الرسول صلى الله عليه وسلم وطاعته فيما امرهم فتحوا القلوب والاقاليم شرقاً وغرباً فى المدة اليسيرة مع قلة عددهم بالنسبة الى جيوش سائر الاقاليم من الروم والفرس والترک والصقالية والبربر والحبوش واصناف السودان والقبط وطوائف بنى آدم قهروا الجميع حتىٰ علت كلمة الله وظهر دينه علىٰ سائر الاديان وامتدت الممالک الاسلامية فى مشارق الارض ومغاربها فى اقل من ثلاثين سنة فرضى الله عنهم وارضاهم اجمعين وحشرنا فى زمرتهم انه كريم تواب».

وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ خَرَجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ بَطَرًا وَّرِئَآءَ النَّاسِ وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللّٰهِ ۚ وَاللّٰهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿۴۷﴾

او مه کیږئ (ای مؤمنانو) په شان د هغو کسانو چه راووتل له کورونو خپلو دپاره د فخر او ښودنې خلقو ته (شوکت، دبدبه خپله) او اړوی دوی (خلق) له لارې د الله څخه او الله پر هغو کارونو چه کوی ئی دوی محیط (چاپیر دی علم او قدرت د ده نو جزا به پرې ورکړی).

**تفسیر:** ابو جهل سره له خپلو لښکرو او ډولونو او نغارو په ډیر شان او شوکت سره د بدر جنګ ته وتلی ؤ چه مسلمانان وویرېږی، او د عربو په نورو قبائلو باندې هم د مشرکانو ویره او اثر ولویږی، په لاره کښې د ابو سفیان پیغام وروړسید چه «قافلې له سختې خطرې څخه نجات مونده او درغله اوس تاسې هم د مکې په لوری بیرته ستانه (واپس) شئ!» ابوجهل په انتهائی غرور سره وویل چه مونږ به هلته بیرته لاړ شو چه د بدر پر چینو او رڼو اوبو باندې ورسیږو او هلته د طرب او نشاط مجالس منعقد کړو، سازندګانې او نغمې ویونکې ښځې د خوښې او برې سندرې ووائی او په زړه پورې اتنونه پرې واچوو، شرابونه وڅښو او ښه سیلونه او مزې وکړو او تر درې شپو او ورځو پورې اوښان حلال کړو. او عربی قبائلو ته ښه میلمستیا ورکړو او داسې ښې چرچې وکړو چه دغه ورځ د عربو په منځ کښې د همیشه دپاره یادګار پاتې وی او په آینده کښې د دغو لړو او کمزورو مسلمانانو حوصله بیخی ماته شی، چه بیا له سره زمونږ د مقابلې جرائت او زړورتوب ونشی کړی، دی له دی څخه څه خبر ؤ چه هغه امیدونه او هیلې (طمعی) چه کوی او هغه تجویزونه چه ابو جهل ورته چرتونه او فکرونه وهل، هغه ګرد (تول) د الله تعالیٰ په قبضه او اختیار کښې دی چه پر مخ ئی بوځی یا ئی مهمل او بی اثره وګرځوی، بلکه که اراده وفرمائی دغه ګردی (تولی) معاملی او چاری به بالعکس او چپه کړی، لکه چه هم داسې هم وشو. د بدر د اوبو او د شرابو د جام په ځای دوی د خپلو وینو د کنډول په سر اړولو باندې مجبور شول ـ د سرور او نشاط محافل ئی جوړ نه کړی شول خو د هغه په ځای د نوحی او ماتم او ویر او ژړا صفونه او قطارونه له (بدره) تر مکی معظمی پورې وترل شول ـ همغه مال چه دوی د تفاخر، تظاهر او ښودنې لپاره لګاوه د مسلمانانو د غنیمت نمړی او لقمه شوه د ایمان او توحید د دائمی غلبې د تاداو (بنیاد) تیږه (ګټه) د بدر په ډګر او میدان ودروله شوه ګواکی په دی ډول (طریقه) سره په دغی وړوکی ځمکی کښې الله تعالیٰ د تولی نړی د ګردو (تولو) ملتونو او اقوامو د قسمتونو فیصله وفرمایله ـ په هر حال په دغه آیت کښې ئی مسلمانانو ته خبر ورکړی چه جهاد یوازې د وژلو او وینو تویولو د هنګامی نوم نه دی، بلکه عظیم الشان عبادت

دی، په عبادت کښې هر څوک چه ريا يا ښودنې وکړی، نو هغه نه قبليږی، لهٰذا تاسی په فخر، غرور، ښودنې او تظاهر کښې کفارو پسی مه درومئ!

وَإِذْ زَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَٰنُ أَعْمَٰلَهُمْ وَقَالَ لَا غَالِبَ لَكُمُ الْيَوْمَ مِنَ النَّاسِ وَإِنِّى جَارٌ لَّكُمْ ۖ فَلَمَّا تَرَآءَتِ الْفِئَتَانِ نَكَصَ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ وَقَالَ إِنِّى بَرِىٓءٌ مِّنكُمْ إِنِّىٓ أَرَىٰ مَا لَا تَرَوْنَ إِنِّىٓ أَخَافُ اللَّهَ ۚ وَاللَّهُ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿٤٨﴾

او (ياد کړئ) هغه وخت چه ښايسته کړی وو دغو (کفارو) ته شيطان عملونه د دوی او وی ويل چه نشته هيڅ غالب پر تاسی نن ورځ له خلقو او بيشکه زه ساتونکی يم ستاسی، نو کله چه سره وليدل (مخامخ شول) دواړه فوځونه (د اسلام او کفر) بيرته ئی منډی کړی په پوندو خپلو «يعنی وتښتيده» او وئی ويل بيشکه زه بيزار يمه له (ساتنی) ستاسی او بيشکه زه وينم هغه (فوځ د ملائکو چه راځی په معاونت د مؤمنانو) چه نه ئی وينئ تاسی بيشکه زه ويريږم له الله او الله سخت دی عقوبت (د ده).

**تفسير:** قريش پر خپل جمعيت او قوت مغرور وو ـ ليکن د دوی جنګ او جنجال ډير ځلی له (بنی کنانه) سره پيښيده نو اوس هم د دوی په زړونو کښې داسی يوه خطره پيدا شوی وه ـ نه چه «بنی کنانه» زمونږ د دغه بری په لاره کښې څه مشکلات پيدا کړی ـ دلته سم د لاسه شيطان د دوی د شا تيپولو او همت زياتولو له پاره د(کنانه) د لوی سردار «سراقه بن مالک» په صورت د خپلو ذرياتو له فوجه سره يو ځای ورښکاره شو او ابوجهل او نورو مشرکانو ته ئی اطمينان ورکړ چه مونږ ګرد (تول) ستاسی د مرستی (مدد) او حمايت له پاره راغلی يو، او د (کنانه) له طرفه بيخی بی غمه اوسئ مونږ له تاسی سره يو. کله چه په بدر کښې د زور او قوت مسابقی شروع شوی او د شيطان په نظر کښې حضرت جبرئيل عليه السلام او نوری پرښتی راغللی، نو د ابوجهل له لاسه يی خپل لاس وښکل او ژر په خپلو پوندو بيرته وګرځيد ـ او ابوجهل ورغږ کړ «ای سراقه! د جنګ او جګړی په دغه شدت کښې په چل او فريب سره چيری تښتی راځه بيرته راوګرځه او لښکر مه بی زړه کوه!» سراقه وويل «زه ستاسی سره نشم پاتی کيدی ـ زه هغه شيان وينم چه تاسی ئی نه شئ ليدی يعنی (پرښتی) د الله تعالیٰ (يعنی د دی حزب الله) له ويری ښځه می زړه رپيږدی (رپيږی) او اندامونه می لړزيږی ـ اوس په ما کښې د درېدلو قوت نشته ـ زه

داریږم چه په کوم سخت عذاب او آفت کښې اخته نشم.» قتاده رحمة الله علیه وائی چه دغه ملعون دروغ وویل د ده په زړه کښې د الله تعالیٰ ویره نه وه ـ هو! هغه پوهیده چه اوس د قریشو لښکری د هلاکت په کنده کښې لویدلی دی، او هیڅ یو قوی دوی نشی ژغورلی(ساتلی) ـ دا د هغه قدیمی عادت دی چه خپلو پیروانو ته کړی لاری ښیی او دوی غولوی ـ کله چه هغوی د هلاکت په کنده کښې وښویوی نو دلته خپله پښه بیرته راکاږی چه سم له هغه سره ئی دلته هم داسی وکړل ﴿ يَعِدُهُمْ وَيُمَنِّيهِمْ وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطَانُ إِلَّا غُرُورًا ﴾ (۵ جزء د النساء «۱۲۰» آیت ۱۸ رکوع ﴿ كَمَثَلِ الشَّيْطَانِ إِذْ قَالَ لِلْإِنْسَانِ اكْفُرْ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ إِنِّي بَرِيءٌ مِنْكَ إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ رَبَّ الْعَالَمِينَ ﴾ (۲۸ جزء د الحشر ۱٦ آیت ۲ رکوع) ﴿ وَقَالَ الشَّيْطَانُ لَمَّا قُضِيَ الْأَمْرُ إِنَّ اللَّهَ وَعَدَكُمْ وَعْدَ الْحَقِّ وَوَعَدْتُكُمْ فَأَخْلَفْتُكُمْ وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيْكُمْ مِنْ سُلْطَانٍ إِلَّا أَنْ دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لِي فَلَا تَلُومُونِي وَلُومُوا أَنْفُسَكُمْ مَا أَنَا بِمُصْرِخِكُمْ وَمَا أَنْتُمْ بِمُصْرِخِيَّ إِنِّي كَفَرْتُ بِمَا أَشْرَكْتُمُونِ مِنْ قَبْلُ إِنَّ الظَّالِمِينَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ (۱۳ جزء د ابراهیم سورت «۲۲» آیت ٤ رکوع

إِذْ يَقُولُ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ غَرَّ هَؤُلَاءِ دِينُهُمْ وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَإِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿۴۹﴾

(یاد کړئ!) هغه وخت چه ویل منافقانو (د مدینی) او هغو کسانو چه په زړونو د دوی کښې مرض ؤ (د اعتقاد ضعف) چه مغرور کړی دی دغو مؤمنانو لره دین د دوی (چه سره د لږوالی او بی اسبابی پر ډیرو وسلو لرونکو ورځی؛ وفرمایل الله په ځواب د دوی کښې) او هر څوک چه توکل وکړی په الله نو (غالبیږی ځکه چه) بیشکه الله ښه غالب قوی (په انفاذ د احکامو) ښه حکمت والا دی (چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی).

**تفسیر:** د مسلمانانو لږ جمعیت او د لوازمو او تجهیزاتو لږوالی او عمومی فقر او مسکنت، او له هغه سره د داسی زړورتوب او شجاعت له لیدلو څخه منافقینو او ضعیف القلبو کلمه لوستونکو به ویل چه دغه مسلمانان په خپل خیال پخپل دین او حقانیت باندی داسی مغرور دی، چه د مرگ خولی ته ځان ورکوی الله تعالیٰ د دوی په ځواب کښې داسی فرمائی، چه دغه غرور نه بلکه توکل دی، هغه څوک چه د الله تعالیٰ په زبردست قوت او قدرت باندی اعتماد او یقین لری او پوهیږی هر هغه شی چه د ده له جانبه کیږی، عین حکمت او ثواب دی. نو دی د حق په معامله کښې هم داسی زړور او شجاع وی.

وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذْ يَتَوَفَّى ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَضْرِبُونَ وُجُوهَهُمْ وَأَدْبَٰرَهُمْ وَذُوقُوا۟ عَذَابَ ٱلْحَرِيقِ ﴿٥٠﴾

او كه ووينى (اى محمده!) هغه وخت چه قبض د روح كوى د هغو كسانو چه كافران شوى دى پرښتى (د عزرائيل مددګاران) په دى حال كښى چه وهى به مخونه د دوى او شاګانى د دوى، او (وائى به ورته) وڅكئ تاسى عذاب د (اور) سوځوونكى (نو وبه ګورى يو له شرمه ډک حال).

**تفسير:** يعنى پرښتى د ځنكدن د عذاب په وخت كښى دوى ته وائى چه اوس خو دغه درواخلئ او د جهنم د عذاب خوند به ورروسته وڅكئ. ډيرو مفسرينو دا هم د بدر په واقعه كښى داخل كړى دى يعنى په هغه وخت كښى هر هغه كافر چه وژل كيده، نو له هغه سره پرښتو هم داسى معامله كوله. مګر د آيت الفاظ ګردو (تولو) كفارو ته عام دى. نو ځكه دغه راجح معلوميږى چه دغه واقعه به په عالم برزخ كښى وى، نو د دى تعلق به د بدر له واقعاتو سره داسى وى چه په دنيا كښى د دغو كفارو حال داسى شو، او په برزخ كښى به داسى كيږى نو د آخرت د عذاب په نسبت به څه ووبل شى چه هغه به څرنګه مدهش وى.

ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيكُمْ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَيْسَ بِظَلَّٰمٍ لِّلْعَبِيدِ ﴿٥١﴾

دغه (تعذيب) په سبب د هغه (بد عمل) دى چه وړاندى ليږلى ؤ لاسونو ستاسى او بيشكه الله نه دى هيڅ ظلم كوونكى په بندګانو خپلو (چه بى ګناه ئى په عذاب كړى).

**تفسير:** دغه ګرد (تول) ستاسى د اعمالو نتيجه او سزا ده، كه نه د الله تعالىٰ له لورى د ظلم او تيرى هيڅ يوه معامله كيدونكى نه ده - او «ظلام» ئى ځكه وفرمايه چه كه معاذ الله د هغه د لورى د يوى ذرى سره په اندازه د ظلم امكان وى نو هغه به د خپل عظمت د شان په لحاظ ظالم نه وى بلكه ظلام به وى ځكه چه د كامل هر صفت هرومرو (خامخا) ښائى چه كامل وى. اوس الله تعالىٰ د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم د تسلى له پاره فرمائى چه د قريشو حال ستا سره داسى دى

كَدَأْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۭ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۵۲﴾

لکه حال د تابعانو د فرعون (له موسٰی سره) او (لکه حال د) هغو کسانو چه وو په خوا له دوی نه (له انبیاؤ خپلو سره؛ هغه عادت دا ؤ) چه کافران شوی ؤ په آیتونو د الله نو نیولی ؤ دوی لره الله په گناهونو د دوی بیشکه الله قوی (زورور) دی ډیر سخت دی عذاب (د ده).

**تفسیر:** یعنی له پخوا راهیسی هم دغه دستور پاتی دی. کله چه خلق د آیت الله تکذیب یا له هغه څخه انکار وکړی ـ یا له انبیاؤ سره په جنګ کولو کښی تینګار (ضد) ښکاره کړی، نو الله تعالٰی دوی په یوه نه یوه عذاب اخته کوی.

ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ لَمْ يَكُ مُغَيِّرًا نِّعْمَةً اَنْعَمَهَا عَلٰى قَوْمٍ حَتّٰى يُغَيِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۵۳﴾

دغه (تعذیب) په سبب د دی دی چه په تحقیق الله نه دی بدلوونکی د(هغه) نعمت چه انعام کړی ئی وی پر یوه قوم باندی تر هغه پوری چه بدل (نه) کړی دوی هغه حال چه په نفسونو د دوی کښی دی او بیشکه الله ښه اوریدونکی (د ګردو (تولو) اقوالو ښه عالم دی (په تولو احوالو).

**تفسیر:** یعنی کله چه خلق په خپلو بی اعتدالیو او غلط کاریو خپله فطری نیکه قوه او استعداد بدلوی، او د الله تعالٰی وربښلی داخلی او خارجی نعمتونه د الله تعالٰی په ورښوولی کار کښی په ښه موقع او ښه صورت نه لګوی بلکه بالعکس ئی د ده په مخالفت کښی صرفوی، نو الله تعالٰی هم خپل هغه ورکړی نعمتونه تری بیرته آخلی ـ او د انعام حال په انتقام سره بدلوی. الله تعالٰی د بندګانو ګردی (تولی) خبری آوری او د دوی په ګردو (تولو) احوالو باندی پوهیږی او هیڅ یو شی له ده څخنی پټ نه دی ـ لهٰذا هر چا سره چه هره معامله وکړی هغه به بیخی سمه او پر خپل ځای وی. حضرت شاه صاحب لیکی «تر هغه پوری چه نیت او اعتقاد بدل نشی؛ نو د الله تعالٰی ورعطا شوی نعمتونه بیرته نه اخیستل کیږی» ـ ګواکی له «ما بانفسهم» څخه خاص نیت او اعتقاد مراد شوی دی لکه چه له ترجمی څخه ظاهریږی والله اعلم.

كَدَأْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ فَاَهْلَكْنٰهُمْ بِذُنُوْبِهِمْ وَاَغْرَقْنَآ اٰلَ فِرْعَوْنَ ۚ وَكُلٌّ كَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ﴿۵۴﴾

(حال د دوی) لکه حال د تابعانو د فرعون دی «له الله سره» او «لکه حال» د هغو کسانو دی چه پخوا له دوی نه وو؛ (او هغه عادت دا ؤ) چه نسبت د دروغو ئی کړی ؤ په آیتونو د رب خپل نو هلاک کړل مونږ دوی په سبب د گناهونو د دوی او غرق (ډوب) کړل مونږ تابعان د فرعون، او (دوی) ټول وو ظالمان.

**تفسیر:** فرعونیان او له دوی څخه پخوانی اقوام ئی د دوی د جرائمو په بدل کښی هلاک کړل او په خاصه توگه (طریقه) ئی د فرعونیانو جاله ډوبه کړه ـ دا گرد (ټول) په هغه وخت کښی وشول کله چه دوی له الله تعالیٰ څخه باغیان شول، او شرارت ئی د خپلو ځانونو له پاره غوره ـ او پر خپلو ځانونو ئی ظلم وکړ، که نه الله تعالیٰ هیڅ یوه مخلوق سره څه ذاتی عداوت نه لری.

اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ عِنْدَ اللّٰهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۵﴾ اَلَّذِيْنَ عٰهَدْتَّ مِنْهُمْ ثُمَّ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَهُمْ فِيْ كُلِّ مَرَّةٍ وَّهُمْ لَا يَتَّقُوْنَ ﴿۵۶﴾

بیشکه بدتر د خوځیدونکو (تلونکو) په نزد د الله هغه کسان دی چه کافران شوی دی نو دوی ایمان نه راوړی. هغه کسان چه معاهده تړلی وه تا له دوی سره بیا ماتوی دوی عهد خپل په هر کرت کښی او دوی نه ویریږی (له دی عهد ماتولو څخه).

**تفسیر:** هغو کسانو چه لکه ابوجهل ـ نضر ـ عتبه او کعب د اشرف ځوی د تل لپاره کفر او بی ایمانی غوره کړی ـ او له انجامه بالکل بی خوفه شوی دی او هغه کسان چه (لکه بنی قریظه) په غداری او بدعهدی سره معتاد شوی دی، دوی د الله تعالیٰ په نزد ډیر بد حیوانان دی. د فرعون حال په بد عهدی او غداری کښی هم داسی ؤ ﴿ وَلَمَّا وَقَعَ عَلَيْهِمُ الرِّجْزُ قَالُوْا يٰمُوْسَى ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ ۚ لَئِنْ كَشَفْتَ عَنَّا الرِّجْزَ لَنُؤْمِنَنَّ لَكَ وَلَنُرْسِلَنَّ مَعَكَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الرِّجْزَ اِلٰٓى اَجَلٍ هُمْ بٰلِغُوْهُ اِذَا هُمْ يَنْكُثُوْنَ ﴾ (۹ جزء د

الاعراف ١٣٤ او ١٣٥ آیت ١٦ رکوع) او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې د «بنی قریظه» د یهودانو او د نورو هم دغه خصلت ؤ چه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره به ئی عهد کاوه چه مونږ د مکی معظمی له مشرکانو سره مرستی (مدد) نه کوو. بیا به ئی له دوی سره مرسته (مدد) کوله او ویل به ئی چه عهد مو په یاد نه ؤ- هر کرت به ئی هم داسی کول - وروسته دا راښیی چه له داسی غدارانو سره څرنګه ښائی چه معامله وکړه شی.

فَإِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ فِي الْحَرْبِ فَشَرِّدْ بِهِم مَّنْ خَلْفَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴿٥٧﴾ وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِن قَوْمٍ خِيَانَةً فَانبِذْ إِلَيْهِمْ عَلَىٰ سَوَاءٍ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْخَائِنِينَ ﴿٥٨﴾

نو که ومومی ته (ای محمده!) دوی په جنګ کښې پس تیت کړه (سزا ورکړه) او وویروه په سبب د تیتولو (سزا ورکولو) د دوی هغه کسان چه وروسته له دوی نه دی (د کافرانو محاربانو نه) لپاره د دی چه دغه وروستنی خلق عبرت واخلی. او که ویریږی (ای محمده!) له کوم قوم (چه وعده ئ کړی ده له تا سره) د خیانت نو وغورځوه دوی ته (دغه عهد) په (داسی ډول (طریقه) چه شئ تاسی او هغوی سره) برابر؛ بیشکه الله نه خوښوی خیانت کوونکی.

**تفسیر:** یعنی که دغه خائنان او غداران معاهدان ښکاره معاهدی تر شا وغورځوی او ستاسی په مقابل کښې د جنګ میدان ته راشی، نو دوی ته داسی سخته سزا ورکړئ او په قتل او جرح او نورو سره ئی داسی وترهوئ چه د هغی له لیدلو څخه د دوی هغه بیرته وروسته پاتی شوی ملګری یا له دوی نه وروسته راتلونکی نسلونه هم عبرت واخلی او د عهد ماتولو جرائت ونشی کړی که یوه قوم ښکاره خیانت ونه کړ، بلکه له آثارو او قرائنو څخه دا خبره څرګنده شوه چه دوی عهد ماتولو ته تیار دی، نو تاسی ته هم اجازه شته چه د مصلحت په تقدیر د دوی عهد بیرته ورکړئ او د معاهدی د انتهاء اطلاع هغوی ته ورکړئ! او بالمقابل له هغوی سره مناسبه رویه وکړئ چه د دواړو ډلو په زړونو کښې د پخوانیو معاهداتو په نسبت هیڅ یو شک او اشتباه پاتی نشی او دواړه په مساویانه ډول (طریقه) سره خبردار او بیدار او هوښیار اوسی، او د خپلو ځانونو په تیاری او حفاظت کښې مشغول اوسی او ستاسی له جانبه څه غلا او خیانت ونشی او ګردی (تولی) معاملی سره ښکاره او صافی وی. الله تعالیٰ خیانت اګر که له کفارو سره هم وی نه خوښوی په سننو کښې روایت دی چه امیر معاویه رضی الله تعالیٰ عنه له «روم» سره میعادی

معاهده درلوده (لرله) د دغه میعاد په منځ کښې امیر معاویه رضی الله تعالیٰ عنه له خپلو فوځونو ته د «روم» د سرحداتو په لوری د پرمختګ امر ورکړ، مقصد ئې داسې ؤ چه اسلامی فوځ دې د رومیانو سرحداتو ته دومره نژدې او بالکل تیار اوسی، چه د معاهدې د نیتې د تیریدلو سره متصل دوی پخپلو تعرضونو پیل (ابتدا) وکړی، څه وخت چه دغه کار جاری ؤ، یو سپین ږیری په داسې حال کښې چه په آس سور ؤ راغی چه داسې ئې ویل «الله اکبر الله اکبر! وفاءاً لا غدراً!» یعنی عهد پوره کړئ او عهد مه ماتوئ! رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی کله چه کوم قوم سره معاهده ولرئ نو هیڅ یوه غوټه دې ونه پرانستله شی! او نه دې وتړله شی - تر هغه پورې چه د معاهدې نیته پوره شی یا مقابلی ډلی ته په مساویانه حیثیت سره معاهده ورمسترده شی!» کله چه معاویه رضی الله تعالیٰ عنه ته دغه خبر ورسید نو ژر له خپله فکره بیرته وګرځید، او چه وئې لید هغه سپین ږیری حضرت عمرو بن عنبسه رضی الله تعالیٰ عنه ؤ.

---

وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا سَبَقُوا إِنَّهُمْ لَا يُعْجِزُونَ ﴿٥٩﴾

---

او نه دې کوی ګمان هغه کسان چه کافران شوی دی چه دوی به وتښتی (له عذابه او خلاص به شی)! بیشکه دوی له سره نشی مغلوبولی (الله له تعذیب خپل)

---

**تفسیر:** د نبذالعهد هغه حکم چه پاس ذکر شو ممکن چه کفار هغه د مسلمانانو په ناپوهی او ساده توب حمل کړی او خوښ شی کله چه د مسلمانانو په دین کښې غدر او خیانت ناروا دی نو موږ ته د مدافعې د خبرداری او بیداری پوره موقع او د مسلمانانو په خلاف د تیاری فرصت په لاس راځی نو د هغه ځواب ئې ورکړ چه څومره تیاری او انتظامات چه وکړی، کله چه الله تعالیٰ د مسلمانانو په لاسونو ستاسې د مغلوبولو او رسوا کولو او په دنیا یا په آخرت کښې د سزا ورکولو اراده وکړی نو تاسی به په هیڅ یوه تدبیر سره هغه نشئ عاجزولی - او نه د ده د قدرت او تسلط له احاطې څخه د باندې تښتیدلی شئ! ګواکې مسلمانانو ته تسلی ورکوی چه دوی دې په الله تعالیٰ اعتماد ولری او د ده د احکامو امتثال دې وکړی، نو پر ګردو (تولو) به غالبیږی «وانتم الاعلون ان کنتم مؤمنین». آل عمران - ١٤ رکوع ، آیت ١٣٩

وَ اَعِدُّوْا لَهُمْ مَّا اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ قُوَّةٍ وَّمِنْ رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُوْنَ بِهٖ عَدُوَّ اللّٰهِ وَعَدُوَّكُمْ وَاٰخَرِيْنَ مِنْ دُوْنِهِمْ لَا تَعْلَمُوْنَهُمْ اَللّٰهُ يَعْلَمُهُمْ وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ شَيْءٍ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ يُوَفَّ اِلَيْكُمْ وَاَنْتُمْ لَا تُظْلَمُوْنَ ﴿٦٠﴾

او تیاروئ (ای مؤمنانو) لپاره (د جنگ) د دغو (ماتوونکو د عهد یا د مطلق کفارو) څومره چه توانیږئ (جمع کولی شئ) تاسی له قوت (اسباب د جنگ) او له روزل شوو ساتل شوو آسونو (لپاره د جهاد) چه ویروئ تاسی به دغه (قوت او تیاری) سره دښمنان د الله او دښمنان ستاسی او نور کسان بی له دوی نه چه نه پیژنئ تاسی هغوی الله عالم دی په (عداوت د) هغوی؛ او هر هغه څه چه نفقه کوئ (لگوئ) تاسی له یوه شی په لاره د الله کښی (لپاره د ترقی د دین) پوره (بدل د هغه) به درکړ شی تاسی ته حال دا چه پر تاسی به ظلم ونه کړی شی (د ثواب په لږوالی او د عذاب په ډیر والی)

**تفسیر:** په الله تعالیٰ د اعتماد او توکل کولو معنی دا نه ده چه ضروری او مشروع اسباب دی ترک کړی شی ځکه چه په مسلمانانو فرض دی تر هغه پوری چه قدرت لری د جهاد سامان او لوازم دی تیاروی د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په مبارک عهد کښی د آسونو سورلی، توره وهل، غشی ویشتل او نور جنگی مشقونه، د جهاد له لوازمو څخه وو. نن توپک، مشین گن توپ، تینک، راکټ، زره پوښ او نوری ارابی، آلوتکی، جنگی او گوټ، کروزر، تحت‌البحری، او بتل او نور جنگی مهمات او لوازم، تجهیزات تیارول او لرل، او په استعمال آچول او چلول او د حربی او عصری فنونو زده کول بلکه ورزش او د دوی په شان نور عملیات کول، د جهاد سامان او لوازم دی. هم داسی هغه نوری وسلی او د حرب او ضرب گرد (تول) آلات او اسباب چه وروسته له دی نه ایجاد او اختراع کیږی، هغه تول د دی آیت په منشاء کښی داخل دی. باقی د آسونو په نسبت خو رسول الله مبارک پخپله فرمایلی دی «الخیل معقود فی نواصیها الخیر الیٰ یوم القیامة - د آسونو په تندی کښی خیر ایښود شوی دی تر قیامته پوری» په احادیثو کښی راغلی دی، هر هغه چه آس د جهاد په نیت روزی او ساتی ئی د ده په خوړلو او څښلو، بلکه په هر قدم پورته کولو باندی اجر وررسیږی، او د ده تر خوړو او نورو پوری به هم د قیامت په ورځ په تله (میزان) کښی تللی کیږی. «او تیاروئ ای مؤمنانو لپاره د جنگ د دغو ماتوونکو

د عهد یا مطلق کفار، څومره چه توانیږئ او جمع کولی شئ تاسی له قوت او اسباب د جنګ او له روزل شوو ساتل شوو آسونو لپاره د جهاد چه ویروئ تاسی په دغه قوت او تیاری سره دښمنان د الله او دښمنان د ستاسی او نور کسان بی له دوی نه چه نه پیژنئ تاسی هغوی او الله ته معلوم دی عداوت د هغوی» یعنی دغه ګرد (تول) سامان، لوازم، تجهیزات او تیاری پر دښمنانو باندی د ویری، خوف او دهشت اچولو لپاره یو ظاهری سبب دی باقی د فتحی او ظفر او بری اصلی سبب خو د الله تعالیٰ مرسته (مدد) ده چه د هغی بیان پخوا له دی نه شوی دی، او هغه خلق چه تاسی ئی بالتعین نه پیژنئ، منافقان دی چه د مسلمانی په پرده کښی ئی ځانونه پټ کړی وو، یا د (بنی قریظه) یهودان یا روم او فارس یا نور هغه اقوام دی چه له هغو سره وروسته له دی نه ستاسی مقابله واقع کیدونکی ده. ﴿وَمَا تُنفِقُوا مِن شَيْءٍ﴾ الآیة ـ او هر څه چه نفقه کوئ لګوئ تاسی له یوه څیزه په لاره د الله کښی پوره بدل او جزاء د هغه به درکړی شی تاسی ته حال دا چه په تاسی به ظلم ونه کړی شی د ثواب په لږ والی او د عذاب په ډیر والی) دغه د مالی جهاد په طرف اشاره ده. یعنی د جهاد په تیاری کښی هغومره مال چه تاسی ولګوئ د هغه پوره بدل او معاوضه به ومومئ! د یوه درهم په مقابل کښی اوه سوه درهم. «والله یضاعف لمن یشاء والله واسع علیم» او ډیر ځلی په دنیا کښی هم د هغه معاوضه بلکه له هغه څخه لا زیات اجر هم درکاوه کیږی.

---

وَإِن جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٦١﴾

---

او که میل وکړی کفار صلحی (روغی) ته نو ته هم میل وکړه دی (صلحی) ته او توکل (اعتماد) وکړه په الله (او مه ویریږه له مکره د دوی) بیشکه چه دغه (الله) هم دی ښه اوریدونکی (د ټولو اقوالو) ښه عالم (دانا پر ګردو (ټولو) احوالو).

---

**تفسیر:** د مسلمانانو دغه تیاری او تجهیزات او مجاهدت او ځان جارول (قربانول) او د نور چارو د لیدلو څخه ډیر امکان لری چه کفار مرغوب او وویریږی او صلحه، روغه وغواړی، نو تاسی ته ارشاد دی چه سم له صوابه او مصالحو تاسی هم هغوی ته د صلحی او روغی لاس وروغځوئ ـ ځکه چه له جهاد څخه وینی تویول نه، بلکه د کلمة الله اعلاء او د فتنی دفع مقصود دی. که دغه عالی مقصد بی د وینی له تویولو څخه حاصل شی، نو خامخا د وینو تویولو لپاره هیڅ حاجت نه پاتی کیږی. که داسی کوم احتمال وی چه شاید کفار د صلحی په پرده کښی غواړی چه مونږ تیر باسی نو هیڅ پروا مه کوئ او پر الله تعالیٰ باندی توکل او اعتماد وکړئ ـ

پاک الله د دوی له نیاتو څخه ښه خبردار دی، او د دوی پټی مشوری اوری د الله تعالیٰ د حمایت په مقابل کښی د هیڅ بدنیتی چلیدی نشی ـ تاسی خپل نیت صاف وساتئ!.

وَإِنْ يُرِيدُوٓا۟ أَن يَخْدَعُوكَ فَإِنَّ حَسْبَكَ ٱللَّهُ ۚ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَيَّدَكَ بِنَصْرِهِۦ وَبِٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٦٢﴾

او که اراده کوی دوی دغه چه فریب درکړی تاته (په دغه روغه کښی) نو بیشکه کافی دی تاته الله؛ هم دی هغه ذات دی چه قوت ئی درکړی دی تاته په مرستی (مدد) خپلی سره (په لیږلو د پرښتو په بدر کښی) او په مؤمنانو سره.

**تفسیر:** که وروسته له روغی څخه دغه خلق د خیانت او د عهد ماتولو اراده وکړی نو تاسی مه خواشینی (خفه) کیږئ، د الله تعالیٰ مرسته (مدد) تاسی ته کافی دی، د دوی هغه گرد (ټول) مکرونه او فریبونه خدای جل جلاله به شنده کړی، همغه الله جل جلاله تاته په «بدر» کښی غیبی امداد درکړ، او په ظاهری ډول (طریقه) سره ئی د ځان جاروونکو او سر ښندونکو مسلمانانو په مټ ستاسی تائید وفرمایه.

وَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ ۚ لَوْ أَنفَقْتَ مَا فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا مَّآ أَلَّفْتَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ أَلَّفَ بَيْنَهُمْ ۚ إِنَّهُۥ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٦٣﴾

او الفت محبت ئی واچاوه په منځ د زړونو د دغو (مؤمنانو) کښی! که لګولی وی تا هر هغه څه چه په ځمکه کښی دی ټول نو نه به دی شو اچولی الفت محبت په منځ د زړونو د دوی کښی ولیکن الله الفت محبت واچاوه په منځ د (زړونو د) دوی کښی؛ بیشکه چه دغه (الله) ښه غالب (قوی د احکامو په انفاذ) ښه حکمت والا دی (چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی.)

**تفسیر:** له اسلام څخه پخوا په عربو کښی د جدال، قتال، نفاق او شقاق بازار تود ؤ په خوشی خوشی چټی (بیکاره) خبرو باندی د قبائلو په منځ کښی تصادمات او جنګونه کیدل، کله چه به د دوه دلو په منځ کښی جنګ شروع کیده نو تر څو پیړیو پوری به د هغه اور نه مړ کیده د

مدینې منورې د دوو زبردستو قبیلو (اوس) او (خزرج) د ګونډی جنګونو او د پخوانۍ عداوت او بغض سلسله هیڅکله سر ته نه رسیده! یو به د بل وینو ته تږی ؤ، او هر یوه به د خپل عزت او پت وږی ؤ، په دغو حالاتو کښې زمونږ پاک رسول محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د توحید او معرفت او اتحاد او اخوت عالم شمول پیغام سره مبعوث شو. خلقو حضرت محمد صلی الله علیه وسلم له مسلمانانو سره د یوه بل مخالف فریق په شان وګانه، او ګردو (تولو) سره لاس یو کړ، او د خلاف او شقاق اصول ئې ځان ته اختیار کړل، خپل هغه پخوانۍ عداوتونه ئې سره هیر کړل او د رسول الله مبارک په مخ کښې په مخالفت ودریدل، او د ده عداوت ئې د خپل مدنظر وګرځاوه، دوی به د ده له پند او نصیحت څخه په تکلیفیدل او له سیورې به ئې تښتیدل، د دنیا هیڅ یو طاقت نه ؤ چه د دغو داړونکو لیوانو او څیروونکو حیواناتو په پاده کښې د الهٰی معرفت او دنیوی محبت روح ورپو کړی، او د توحید له شرابو ئې ماړه او مست کړی، او تول سره یو وار د اخوت او الفت په ځنځیر وتړی، او د هغه مقدس وجود، صمیمی امتیان، او ځان جاروونکی مینان ئې وګرځوی چه څو ورځې پخوا له دوی څخه دیر مبغوض سړی نور څوک نه ؤ بلا شبه که د ځمکې ګردې (تولې) خزانې لګولې شوې وی، خو بیا هم داسې یو لوی مقصد تری حاصلیدی نشو، چه د الله تعالیٰ په رحمت او اعانت سره په داسې سهولت سره حاصل شوی دی. الله تعالیٰ د حقیقې ورونو څخه زیات د یو مینه او الفت د بل په زړه کښې واچاوه، او بیا د دغو ګردو (تولو) الفتونو اجتماعی مرکز د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم منبع البرکات ذات ئې وګرځاوه د دوی زړونه داسې یو وار سره اړول د الله تعالیٰ د قدرت او قوت یوه کرشمه وه، او د شدید ضرورت په داسې یوه وقت کښې، دوی ګرد (تول) د محبت او الفت په یوی نقطې کښې سره تولول، د ده د کامله حکمت دلیل دی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ حَسۡبُكَ ٱللَّهُ وَمَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ۝٦٤

ای نبی کافی (بس) دی تاته الله او هغه چا ته چه متابعت کوی ستا له مؤمنانو څخه

**تفسیر:** دا آیت په دوه ډوله (قسمه) سره معنی کیدی شی د اکثرو اسلافو په نزد ئې مطلب دا دی (ای نبی صلی الله علیه وسلم الله تعالیٰ تاته او ستا ملګرو ته کافی دی!) یعنی د عدد او سریو او مال او تجهیزاتو له قلت څخه ویره نه ده په کار ځینو علماؤ د هغه معنی داسې کړې ده (ای نبی صلی الله علیه وسلم! تاته په حقیقت کښې یواځې الله تعالیٰ کافی دی او د ځینو ظاهری اسبابو په اعتبار د مخلصو مسلمانانو جماعت اګر که دیر لږ هم وی کافی دی) پخوا ئې فرمایلی وو ﴿ أَيَّدَكَ بِنَصۡرِهِۦ وَبِٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴾ ګواکی دا د هغه خلاصه ده.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ حَرِّضِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ عَلَى ٱلۡقِتَالِۚ إِن يَكُن مِّنكُمۡ
عِشۡرُونَ صَٰبِرُونَ يَغۡلِبُواْ مِاْئَتَيۡنِۚ وَإِن يَكُن مِّنكُم مِّاْئَةٞ
يَغۡلِبُوٓاْ أَلۡفٗا مِّنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا يَفۡقَهُونَ ﴿٦٥﴾

اى نبی! تیز کړه ( او ترغیب ورکړه) مؤمنانو ته پر جنګ (د کفارو)؛ که وو له تاسی څخنی شل تنه صابران (ثابت قدمان) نو غلبه دی وکړی پر دوو سوو کافرانو (یعنی داسی جنګ دی وکړی چه نتیجه ئی فتح او غلبه کیدی شی) و که وو له تاسی څخنی سل تنه (صابران ثابت قدمان) نو غالب دی شی پر زرو تنو له هغو کسانو چه کافران شوی دی په سبب د دی چه بیشکه دوی (داسی) قوم دی چه نه پوهیږی (یعنی جاهلان دی په الله او په قیامت).

**تفسیر:** الله تعالیٰ په دغه آیت سره مسلمانانو ته د جهاد په لوری ترغیب ورکوی چه که لږ یئ هم مه بی زړه کیږئ! د الله تعالیٰ په فضل او مرحمت سره تاسی پر لس چندو دښمنانو باندی هم غالبیدی شئ سبب ئی دا دی چه مسلمانان د الله تعالیٰ لپاره جنګیږی او دوی الله تعالیٰ پیژنی او یقین پری لری او د ده د مرضی متابعت کوی او په داسی یوی عقیدی د جنګ په ډګر کښی قدم ږدی چه د الله تعالیٰ په لاره کښی مرګ اصلی ژوندون بولی. هر مسلمان متیقن دی چه زما د ګردو (تولو) مجاهداتو ثمره په آخرت کښی ضرور رارسیدونکی ده که زه غالب شم او که مغلوب او د کلمة الله د اعلا لپاره هر هغه تکلیف چه پر ځان واخلم، هغه فی الحقیقت ما له دائمی خوښی او ابدی مسرت سره یو ځای کوی. تر هغه پوری چه مونږ مسلمانان په دغی عقیدی د خدای له دښمنانو سره جنګ وکړو نو الٰهی تائید به زمونږ مددګار وی او له مړینی او مرګ څخه هیڅکله نه ویریږو نو ځکه په ډیر زړورتوب او میرانی (بهادری) سره جنګیږو. هر کله چه کافران پر دغه حقیقت نه دی معتقد، نو ځکه تش د حقیرو او فانی اغراضو لپاره د حیواناتو په شان جنګیږی او د دغه قلبی قوت او غیبی امداد څخه محروم پاتی کیږی بناء علیه د خبر او زیری په ډول (طریقه) حکم راکړی شوی دی چه مؤمنانو ته ښائی چه د لس چندو دښمنانو په مقابل کښی په ډیر صبر او استقامت سره وجنګیږی، که مسلمانان شل تنه وی ښائی چه د دوو سوو کفارو له مقابلی څخه مخ ونه ګرځوی، که سل تنه وی نو زرو تنو ته دی خپلی شاوی ونه ګرځوی.

**تنبیه:** دغه د شلو او د سلو عددونه ئی ښائی د دی لامله (له وجی) بیان فرمایلی وی چه د هغه وخت د مسلمانانو د تعداد په لحاظ په (سریه) کښی لږ تر لږه شل او په (جیش) کښی لږ تر لږه تر یو سل تنو لښکریان به وو۔ وروستنی آیت پس له هغه موعده نازل شوی دی چه د مسلمانانو

شمیر زیات شوی ؤ، نو ممکن د سریه شمیر اقلاً یو سل او د محمدی جیش لښکر شمیر به تر زرو پوری رسیدلی وی ـ د دغو دواړو آیتونو د نسبت او وختونو څنی دغه توپیر (فرق) او تفاوت راښکاریږی چه د وړومبنی آیت په نسبت د وروستنی آیت د نزول په وخت کښی د مسلمانانو تعداد زیات شوی ؤ.

---

اَلْـٰٔنَ خَفَّفَ اللّٰهُ عَنْكُمْ وَعَلِمَ اَنَّ فِيْكُمْ ضَعْفًا ؕ فَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ مِّائَةٌ صَابِرَةٌ يَّغْلِبُوْا مِائَتَيْنِ ۚ وَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ اَلْفٌ يَّغْلِبُوْۤا اَلْفَيْنِ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۶۶﴾

---

اوس آسانتیا وکړه الله په تاسی (او تیر شو له سختی) او معلومه ئی کړه چه بیشکه په تاسی کښی سستی ده نو که وو له تاسی څنی سل تنه صابران (ثابت قدمان) نو غالب دی شی پر دوو سوو (کافرانو یعنی داسی جنګ دی وکړی چه نتیجه ئی فتح او غلبه کیدی شی) او که وو له تاسی څنی زر تنه غالب دی شی په دوو زرو (کفارو) په حکم د الله سره او الله ملګری دی له صابرانو (ثابت قدمانو سره په نصرت، حفاظت، اثابت).

---

**تفسیر:** په بخاری شریف کښی له ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی په دغه تیر آیت کښی چه مسلمانانو ته د لس چندو کفارو په مقابل کښی د ثابت قدمی امر ورکړی شوی ؤ، هر کله چه پر خلقو دغه حکم دروند شو، نو وروسته له هغه دغه بل آیت نازل شو ﴿ اَلْـٰٔنَ خَفَّفَ اللّٰهُ ﴾ الآیة ـ یعنی الله تعالیٰ ستاسی د کمزوری او سستی له معلومولو څخه وروسته هغه حکم لری کړ، اوس یواځی د خپل دوچند تعداد په مقابل کښی ثابت قدم اوسیدل ضروری، او تری تښتیدل حرام دی. دغه سستی او کمزوری چه د هغی له وجی په حکم کښی تخفیف راغلی دی له څو وجوهو څخه کیدی شی. د هجرت په ابتداء کښی لږ او غوره مسلمانان موجود وو، چه د هغوی قوت او جلادت معلوم وو څه وخت چه وروسته له دوی څنی زیات افراد سپین ږیری او کمزوری شول، او هغه نوی ځلمیان چه سرونه ئی پورته کړی وو، په دوی کښی د پخوانیو د مهاجرینو او انصارو په شان بصیرت، استقامت، تسلیم او تفویض نه وو، او د تعداد د زیاتوالی لامله (له وجی) تر یوی اندازی پوری پر خپل کثرت باندی ډاډه، او په **(توکل علی الله)** کښی بئی لږ شانی کمی شوی وی او برسیره په دی د انسانی طبیعت دغه خاصه ده هغه سخت کار چه پر لږو سریو ولویږی، نو په کار کوونکو کښی د عمل څوښ (جوش) زیاتوی او هر سری له خپل قوت او قدرت څخه زیات زحمت او زیار (کوشش) کوی. لیکن که همغه کار په یوه لوی تولګی

باندی واچاوه شی، نو هر یوه به د بل په انتظار کښی وی، او ټول سره داسی فکر کوی چه آخر زه خو یوازی د دغه کار مسئول او ذمه وار نه یم، نو په همغه تناسب سره د عمل په ځوښ (جوش) او حرارت او همت کښی قلت څرګندیږی. حضرت شاه صاحب فرمائی په ړومبنیو مسلمانانو کښی یقین کامل وو، نو پر دوی داسی حکم شوی وو چه له خپلو ځانونو څخه لس چندو کفارو سره دی جهاد وکړی، څرنګه چه وروستنی مسلمانان له دوی څخنی یو قدم وروسته ؤ، نو پر دوی داسی حکم وشو چه له دوو چندو سره جهاد وکړئ! هم دغه حکم تر اوسه باقی دی لیکن که له دوو ځنی پر زیاتو حمله وکړی لوی اجر لری، د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په وخت کښی یو زر تنه مسلمانان له اتیا زرو سره جنګیدلی دی. د «موته» په غزا کښی دری زره مسلمانان د دوو لکو کفارو په مقابل کښی ټینګ ولاړ وو، له داسی واقعاتو څخه لله الحمد اسلامی تاریخ ډک دی.

---

مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَكُونَ لَهُۥٓ أَسْرَىٰ حَتَّىٰ يُثْخِنَ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ تُرِيدُونَ عَرَضَ ٱلدُّنْيَا وَٱللَّهُ يُرِيدُ ٱلْءَاخِرَةَ ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٦٧﴾

---

نه ښائی نبی لره دا چه وی ده لره بندیان (چه تری فدیه واخلی) تر هغه وخته چه قوی شی په ځمکه کښی (د کفارو د ډیر قتل او جرحی په سبب) اراده کوئ تاسی «ای مؤمنانو» اسباب د دنیا (په اخیستلو د فدیی سره) او الله اراده لری (تاسی لره ثواب) د آخرت (د کفارو د قتل په سبب) او الله ښه غالب قوی (په انفاذ د احکامو) ښه حکمت والا دی چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی.

---

**تفسیر:** د بدر په غزا کښی اویا تنه کافران د مسلمانانو په لاس بندیان شول د الله تعالیٰ له لوری د دوی په نسبت دوه صورتونه د مسلمانانو په مخکښی وړاندی شول، (۱): وژل (۲): تری فدیه اخیستل، او خوشی کول، په دغه شرط سره چه په بل کال کښی به له تاسی څخه هم دغومره سری وژل کیږی په حقیقت کښی د الله تعالیٰ له جانبه د دغو دوو صورتونو وړاندی کیدل د یوه صورت د انتخاب له پاره د امتحان او ازموینی په ډول (طریقه) ؤ، څو ظاهر شی چه د مسلمانانو رأی او طبیعت کوم لوری ته میلان او ترجیح لری؟ لکه چه ازواجو مطهراتو ته په دوو صورتونو کښی تخییر ورکړی شوی ؤ ﴿إِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ﴾ الآیة - «۲۱ جزء د الاحزاب ۲۸ آیت ٤ رکوع» یا په معراج کښی د رسول الله مبارک په مخ کښی شوده او شراب په دوو لوښو کښی وړاندی کړی شول، خو زمونږ پاک نبی صلی الله علیه وسلم شودی اختیار کړی، جبرئیل علیه السلام وویل که بالفرض تاسی شراب غوره کړی وی، نو ستاسی امت به بی

لاری کیده، په هر حال رسول الله مبارک په دغی معاملی کښی له اصحابو څخنی رأیه وغوښته. حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه وویل «یا رسول الله! دغه گرد (تول) بندیان مو خپلوان او ورونه دی، بهتره دا ده چه له هغو څخه فدیه واخلو. او خوشی ئی کړو چه بیرته لاړ شی، د دغه نرم سلوک او احسان څخه وروسته ممکن دی چه څه خلق له دوی څخنی مسلمانان او هغوی له خپلو اولادونو او اتباعو سره زمونږ لاس او مټ وگرځی، او هغه مال چه د دوی له لوری بالفعل زمونږ په لاس راشی په هغه به مونږ جهاد او نور دینی کارونه او لازمی چاری په مخ بوځو. باقی که په بل کال کښی زمونږ اویا تنه سری په شهادت ورسیږی هغه دغومره د اندیښنی ځای نه دی ځکه چه په شهادت به ورسیږی، د نبی کریم علیه افضل الصلواة والتسلیم میلان هم د فطری زړه سوی، شفقت، او صلة الرحمی په بناء د هم دی رایی په لوری ؤ. بلکه د اصحابو کرامو عمومی رأیه هم په هم دی جانب وه، زیاتره اصحاب د حضرت ابوبکر الصدیق رضی الله تعالیٰ عنه له دی بیان سره متفق وو. حضرت عمر او سعد بن معاذ رضی الله تعالیٰ عنهما له دغو آراؤ سره اختلاف وکړ حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه وویل «یا رسول الله! دغه بندیان د کافرانو امامان او د مشرکینو مشران او لویان دی دوی تول دی ووژل شی نو د کفر او شرک سر به مات شی او پر گردو (تولو) مشرکانو به هیبت ولویږی او وروسته له دی نه به د مسلمانانو د ربړولو (تکلیفولو) او د الله تعالیٰ له لاری څخنی د خلقو د گرځولو جرائت په دوی کښی پاتی نه شی او د الله تعالیٰ په دربار کښی به له مشرکانو سره زمونږ انتهائی نفرت او بغض، او کامله بیزاری ښکاره شی چه مونږ د الله تعالیٰ په لاره او د حق په معامله کښی د خپلو د خپلوی او قرابت او د مالی فوائدو او د هیڅ څیز هیڅ پروا هم ونه کړه. نو ځکه مناسب ده چه په دغو بندیانو کښی هر هغه چه له مونږ څخنی د کوم یوه عزیز او قریب وی، هغه دی همغه خپل قریب محبوس په خپل لاس ووژنی». لنده دا چه له بحث او غور نه وروسته د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه پر مشوری باندی عمل وشو ځکه چه د آراؤ کثرت د هغه د رأی په لوری ؤ، او په خپله رسول کریم علیه افضل الصلواة والتسلیم هم د خپل طبیعی رأفت او رحمت په بناء د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه د خبری لوری ته مائل ؤ او برسیره په هغه د اخلاقی او کلی حیثیت او عمومی حالاتو په ملحوظ همغه د صدیق اکبر رضی الله تعالیٰ عنه رأیه حق ته نژدی ښکاریده خو که په هغه وخت کښی د اسلام حالات په نظر کښی نیول شوی وی نو د هغه وخت تقاضا هم دا وه چه د کفارو په مقابل کښی له سختی نه کار واخیستل شی ځکه دا لومړنی موقع وه چه له دیارلسو کلونو نه وروسته مظلومو مسلمانانو ته د ظالمو بت پرستانو په مقابل کښی په لاس ورغله څو ورته ثابت کړی چه اوس ستاسی د خپلوی تعلقات، اموال، جمعیت، قوت، قدرت او نور هیڅ یو شی تاسی د الله تعالیٰ له انتقام څخه نشی ژغورلی(ساتلی)، ابتداء یوه مرتبه پر دغو ظالمانو مشرکانو دبدبه، رعب او ویره او خوف غورځول په کار ؤ، ځکه چه وروسته له دی نه، د لطف، نرمی، صلة الرحمی او د نورو ښیگڼو له پاره دیری مواقع پاتی وی، له بل لوری د اویا تنو مسلمانانو په قتل راضی کیدل هم کومه معمولی او چتی (بیکاره) خبره نه وه خو ځکه د

دغو رأيه د الله تعالىٰ په دربار كښې غوره نه شوه په ﴿ مَاكَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَكُونَ لَهُۥٓ أَسْرَىٰ حَتَّىٰ يُثْخِنَ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ كښې د دې نه غوره والي په لوري اشاره ده ـ او دغه د اصحابو
كرامو رضى الله تعالىٰ عنهم اجمعين يوه سخته خطرناكه اجتهادي غلطي وګڼله شوه او هغو خلقو ته په صاف دول (طريقه) سره په ﴿ تُرِيدُونَ عَرَضَ ٱلدُّنْيَا ﴾ سره خطاب كړى شوى دى، يعنى تاسى د دنيا فاني ګټې په نظر كښې نيسئ حال دا چه بايد مؤمنان باقي ژوندون په نظر كښې ونيسي. كه د الله تعالىٰ حكمت مقتضىٰ شي نو ستاسى كارونه په خپل قدرت سره بې له ظاهري اسبابو هم په سر رسولى شي په هر حال په فديه اخيستلو سره د كفارو پريښودل، د هغه وخت د حالاتو په اعتبار ډيره غټه غلطي وګڼله شوه. بايد وويل شي چه د روايتونو له مخې يوازې دومره ثابتيږي چه حضرت پيغمبر صلى الله عليه وسلم خاص د صله رحمى او مهرباني د ترجيح لامله (له وجې) د دوى له مشورې سره موافقه كړې وه هو! له اصحابو كرامو څخه ځينو يوازې مالي حيثيت تر نظر لاندې نيولى ؤ او زياترو اصحابو كرامو له ديني مصالحو او اخلاقي عواملو سره ضمناً مالي احتياجات هم په نظر كښې نيولي وو او دا مشوره ئې وړاندې كړې وه ګواكي ځينو كلاً او زياترو جزاً مالي حقيقت په نظر كښې نيولى ؤ د لږې مالي ګټې له كبله (وجې) هر څومره چه وي په «بغض في الله» كښې قصور، او له اصلي مقصد (جهاد) څخه غفلت كول، او د اويا تنو مسلمانانو په وژلو باندې په خپل اختيار راضي كيدل، د اصحابو غوندې مقربينو له عالي شان او جليل منصب څخنې منافي ګڼلى شوي دي نو ځكه په دغو آيتونو كښې سخته عتاب آميزه لهجه اختيار كړى شوې ده په حديث كښې راغلي دي، په كوم جنګ كښې د يوه مجاهد سر زخمي شو ـ دلته دغه زخمي ته د غسل ضرورت هم وريپښ شو، څرنګه چه د اوبو استعمال ده ته ډير مضر ؤ نو له خپلو ملګرو څخنې يې د مسئلې پوښتنه وكړه دوى ورته وويل چه د اوبو په موجوديت كښې مونږ تاته هيڅ لاره نشو ښوولى، دغه مجروح ولمبل، او د دغو لمبيدلو په اثر مړ شو. كله چه په دغې واقعې رسول اكرم صلى الله عليه وسلم مطلع شو، نو ئې وفرمايل «قتلوه ـ قتلهم الله ـ الحديث» له دې نه ظاهره شوه چه كه اجتهادي غلطي ډيره واضحه او خطرناكه وي، نو پر هغه عتاب كيدى شي ـ ګواكي داسي معلوميږي چه مجتهد د خپل پوره اجتهاد د قوت په صرف كولو كښې قصور كړى دى.

## لَّوْلَا كِتَٰبٌ مِّنَ ٱللَّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيمَآ أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٦٨﴾

كه نه وى ازلي حكم له جانبه د الله چه ړومبى ليكل شوى دى (په لوح محفوظ كښې) نو خامخا رسيدلى به ؤ تاسى ته په عوض د) هغې (فديې) كښې چه اخيستى ده تاسى عذاب ډير لوى.

**تفسير:** يعنى دغه غلطي په خپل ذات كښې داسي وه چه هغوى دنيوى مال او متاع په نظر كښې

نیولي وو داسې مشوره ئې ورکړې وه نو لازمه وه چه سخته سزا ورکړې شوې وې خو لومړې د سزا مانع هغه دې چه پاک خدای بیان کړې دې او دغه لاندنې شیان هم کیدې شي چه د سزا مانع وګرځي

(۱): په مجتهد باندې به په دا قسم اجتهادي غلطي او خطاء کښې څه عذاب نه وي.

(۲): تر هغه پورې چه الله تعالیٰ په کوم شي باندې ښکاره امر او یا له هغه څخه ښکاره منع ونه کړي، د هغه مرتکب نه په عذابوی.

(۳): د اهل البدر ګردې (تولې) خطاوې ئې ورمعافي کړې دي.

(٤): کومه رویه چه په غلطي سره پخوا له وخته اختیار کړې شوې ده یعني په فدیه سره د بندیانو خوشي کول د الله تعالیٰ په علم کښې فیصله شوې وه چه وروسته له هغه به د دې اجازه ورکوی ﴿ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً ﴾ ۲٦ جزء د محمد صلی الله علیه وسلم سورت اوله رکوع آیت ٤

(٥): دغه هم فیصله شوې وه تر هغه پورې چه رسول علیه السلام په دوی کښې موجود وي، یا خلق د زړه له صدقه استغفار وائي نو عذاب به پرې نه راځي.

(٦): له دغو بندیانو څخنې د ډیرو په قسمت کښې مسلمانیدل لیکل شوې وو. الغرض که داسې موانع نه وې نو دغه غلطي دومره لویه او سخته وه چه ښائي پرې ډیر سخت عذاب نازل شوې وې - په یوه روایت کښې راغلي دي چه د دغې قولي تنبیه څخه وروسته هغه عذاب چه ښائي د دغسې خوفناکې غلطي له امله (وحي) نازل شي د رسول الله صلی الله علیه وسلم مخې ته وروړاندې او وښود شو، نو په دې ترتیب دغه قولي تنبیه لا زیاته مؤثره وګرځیده. رسول الله مبارک د هغې منظرې له لیدلو څخه په ژړا شو، حضرت عمر رضی الله عنه د ژړا له سبب څخه پوښتنه وکړه ده وفرمایل چه «ماته هغه عذاب راوښودل شو چه که دغه پورته موانع ئې نه وې نو د راتللو امکان ئې ؤ»

**تنبیه:** درسول الله صلی الله علیه وسلم نظر ته دا عذاب داسې وړاندې شو لکه چه د کسوف د لمانځه د اداء په وخت کښې چه د قبلې په دیوال کښې جنت او دوزخ ورته تمثیل کړې شوې ؤ یعني مقصد دا ؤ چه د هغه متوقع عذاب منظره ور وښوول شي او بس.

---

فَكُلُوا مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلَالًا طَيِّبًا ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٦٩﴾ ع

---

نو خورئ تاسې له هغه ماله چه غنیمت اخیستې دې تاسې حلال طیب (پاکیزه) او وویرېږئ له الله بیشکه الله ښه ښبونکې د (خطیاتو) ډیر مهربان دې (د اجر او ثواب په انعام سره)

**تفسير:** له رومبنی عتاب او تهدید څخه مسلمانان دومره وویریدل چه ویی ویل ښایی د غنیمت په اموالو کښی چه د بندیانو فدیه هم پکښی شامله ده لاس ونه وهل شی نو په دغه آیت کښی ئی تسلی وفرمایله چه هغه د پاک الله عطا ده په خوښی سره ئی خورئ ـ هو! په جهاد کښی غنیمت او نورو شیانو ته دومره اهمیت ورکول یا ئی دومره په نظر کښی نیول نه دی پکار چه له عالی مقاصدو او کلی مصالحو څخه سترګی پټی شی، بیشکه د موقتی حالاتو او مصالحو په اعتبار له تاسی څخنی یوه غلطی وشوه مګر په خپله په مال کښی څه خبث او پلیتی نشته نو د الله تعالیٰ څخه وویریږئ او له مخالفت نه ئی ځانونه وساتئ هغه به په خپل مرحمت سره ستاسی غلطی درمعافوی.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّمَن فِيٓ أَيۡدِيكُم مِّنَ ٱلۡأَسۡرَىٰٓ إِن يَعۡلَمِ ٱللَّهُ فِي قُلُوبِكُمۡ خَيۡرٗا يُؤۡتِكُمۡ خَيۡرٗا مِّمَّآ أُخِذَ مِنكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ۝٧٠ وَإِن يُرِيدُواْ خِيَانَتَكَ فَقَدۡ خَانُواْ ٱللَّهَ مِن قَبۡلُ فَأَمۡكَنَ مِنۡهُمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ۝٧١

---

ای نبی! ووایه ته هغه چا ته چه په لاسونو ستاسی کښی دی له بندیانو (قیدیان) که معلوم کړی الله په زړونو ستاسی کښی کوم خیر «ایمان» نو دربه کړی تاسی ته خیر «بهتر، غوره» له هغه (مال) څخه چه اخیستی شوی دی له تاسی نه او مغفرت به وکړی تاسی ته؛ او الله ښه ښښونکی د «خطیاتو» ډیر رحم والا دی «د اجر او ثواب په انعام سره» او که اراده وکړی دغه «بندیان» د خیانت ستاسی «په ظاهری اسلام سره» نو په تحقیق خیانت کړی ؤ دوی له الله سره پخوا له دی نه (په کفر او د عهد په ماتولو سره) نو قادر کړی «ته الله» پر دوی «په قتل او حبس د دوی سره» او الله ښه عالم دانا «په تولو احوالو» ښه حکمت والا دی.

---

**تفسير:** او که اراده لری هغه بندیان چه اسلام ئی راوړی دی د دی چه له تا سره خیانت وکړی او بیرته مرتد شی، یا هغه فدیه درنه کړی چه دوی ئی ضامنان شوی دی پس په تحقیق خیانت کړی ؤ دوی له الله سره پخوا له دی په کفر سره پس انتقام ئی واخیست له دوی په ورځ د بدر کښی چه اویا تنه ئی تری مړه، او اویا تنه ئی بندیان کړل. یعنی که بیا ئی خیانت وکړ، نو بیا به هم پری تا مسلط کړی، او الله ښه دانا دی په مآل د بندګانو خپلو، حکیم دی په تولو

اوامرو او نواهیو کښې ځینو بندیانو (قیدیان) د اسلام اظهار کړی ؤ لکه حضرت عباس رضی الله تعالیٰ عنه او نورو هغوی ته وویل شول چه الله تعالیٰ ته معلوم دی چه په رښتیا سره ستاسی په زړونو کښې ایمان او تصدیق شته نو هغه فدیه چه اوس له تاسی ځخه اخیستل شوی ده له هغی ځخه به لا زیات او غوره تاسی ته مرحمت کوی، او ستاسی پخوانی ګناهونه به وبښی او که د اسلام د دی اظهار په وسیله د رسول الله صلی الله علیه وسلم تیر ایستل مو مقصود وی، یا د چل او فریب اراده لرئ، نو پخوا چه مو له الله تعالیٰ سره کومه تګی کړی وه، یعنی د ﴿أَلَسْتُ﴾ فطری عهد په خلاف مو کفر او شرک اختیار کړی ؤ، یا ځینو «بنی هاشمو» چه د ابوطالب په حیات کښې عهد کړی ؤ چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حمایت کښې به متفق وی، او اوس له کفارو سره ملاترلی راغلی دی، او د هغه انجام ئی په خپلو سترګو سره ولید چه نن په څه ډول (طریقه) د مسلمانانو په قید او واک کښې دی. وروسته له دی نه هم د تګی هم داسی سزا ورکوله کیږی، له الله تعالیٰ ځخه خپلی پټی خبری او نیتونه نشئ پټولی او نه د هغه د حکیمانه ؤ انتظاماتو مخه نیولی شئ. حضرت شاه صاحب لیکی د الله تعالیٰ وعده پوره شوه له دوی ځنی هغه کسان چه مسلمانان شول، الله تعالیٰ هغوی ته بیشماره دولتونه ورعطا کړل او هغه چه مسلمانان نشول خراب او تباه شول.

---

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ آوَوا وَّنَصَرُوا أُولَٰئِكَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ ۚ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يُهَاجِرُوا مَا لَكُم مِّن وَلَايَتِهِم مِّن شَيْءٍ حَتَّىٰ يُهَاجِرُوا ۚ وَإِنِ اسْتَنصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ إِلَّا عَلَىٰ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٧٢﴾

---

بیشکه هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او هجرت ئی کړی دی او جهاد ئی کړی دی په مالونو خپلو سره او په نفسونو خپلو سره په لاره د الله کښې (د دین د ترقی له پاره) او هغه کسان چه ځای ئی ورکړی دی «مهاجرینو ته» او مددګاری ئی کړی ده «له دوی سره» دغه کسان ځینی د دوی

دوستان دی د ځینو نورو «په نصرت او ارث» او هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او هجرت ئی نه دی کړی نشته تاسی ته له ولایت (نصرت او ارث) د دوی ځنې هیڅ شي تر هغه پوری چه هجرت وکړی او که طلب د نصرت (او مرسته (مدد) وکړی دغه (غیر مهاجر مؤمنان د کفارو په جنګ کښې) له تاسی ځنې په دین کښې نو لازمه ده په تاسی مرسته (مدد) کول (له دوی سره په دین کښې) مګر (نه دی لازم ستاسی نصرت او ورتګ) پر هغه قوم باندی چه په منځ ستاسی او په منځ د دوی کښې معاهده وی؛ او الله په هغه کار چه کوئ (ئی) تاسی ښه لیدونکی دی (په پټو او ښکاره ؤ پوه).

---

تفسیر: په دغو بندیانو (قیدیان) کښې ځینې داسی کسان هم وو، چه په زړه کښې مسلمانان وو خو له حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ئی هجرت نه ؤ کړی، او په زور او بې له خپلې خوښې له کفارو سره بدر ته راغلی وو، په دغه آیت کښې دا راښوولی شوی دی، چه د داسی مسلمانانو حکم څه دی؟ حضرت شاه صاحب لیکی چه د حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم اصحاب دوه فرقې وی مهاجرین (کور او کهول پریښوونکی) او انصار (ځای ورکوونکی) (مرسته (مدد) کوونکی). په دغو دواړو فرقو کښې رسول الله مبارک مواخات (وروروَلی) قائمه کړی وه د آیت مضمون داسی شو څومره مسلمانان چه له رسول صلی الله علیه وسلم سره حاضر دی د دوی ګردو (ټولو) صلحه او جنګ سره یو دی. د یوه موافقت د ګردو (ټولو) موافقت او د یوه مخالفت د ګردو (ټولو) مخالفت دی، بلکه د هجرت په ابتداء کښې د مواخاتو د سلسلې په لحاظ یوه له بل څخه میراث هم ووړ. او هغه مسلمان چه په خپل هغه ملک کښې اوسیږی چه هلته د کفارو زور او تسلط وی، یعنی له دار الحرب ئی هجرت نه وی کړی، د هغو په صلحه او جنګ کښې د دارالاسلام اوسیدونکی مسلمانان (مهاجرین او انصار) نه شریک کیږی که د دارالحرب مسلمانان صلحه یا معاهده د کفارو له کوم جماعت سره وکړی، نو د دارالاسلام حر او آزاد مسلمانان د هغې معاهدې تعمیل نشی کولی، بلکه له هغوی سره د مصلحت له مخې لا جنګ هم کولی شی، هو! دغه ضروری ده که د دارالحرب مسلمانان په دینی معاملاتو کښې له آزادو مسلمانانو څخه مرسته (مدد) وغواړی، نو له دوی سره حسب المقدور مرسته (مدد) کول په کار دی مګر له هغه جماعت سره چه د دغو آزادو مسلمانانو معاهده شوی ده د هغو په مقابل کښې د معاهدې تر ادامې پوری د دارالحرب له مسلمانانو سره امداد نشی کولی، او هم په خپلو منځونو کښې میراث په هغه سلسله کښې چه د مهاجرینو او انصارو سره ئی قائمه کړی وه د دارالحرب مسلمانان نه وو شامل.

وَالَّذِينَ كَفَرُوا بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ ۚ إِلَّا تَفْعَلُوهُ تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيرٌ ﴿۷۳﴾

او هغه کسان چه کافران شوي دي ځیني د دوی دوستان دي د ځینو نورو (په امداد کښي یو له بله سره)؛ که ونه کړئ تاسي دا (دوستي په خپلو منځونو کښي او دښمني له کفارو سره) نو پیدا به شي (لویه) فتنه په ځمکه کښي او (خور به شي) فساد لوی.

**تفسیر:** یعني د کافر او مسلمان په منځ کښي نه حقیقي رفاقت شته او نه یو د بل وارث کیدی شي. هو! کافر د کافر رفیق او وارث دی. بلکه ګرد (تول) کافران له تاسي سره په دښمني کولو کښي سره یو دي، هر چیری چه پر ضعیفو مسلمانانو د دوی لاس بر شي، ربړوی (تکلیفوی) ئې. د دوی په مقابل کښي که مسلمانان یو له بل سره ملګری او مدد ګار نه وي یا کمزوری مسلمانان دا کوښښ ونه کړی چه آزاد مسلمانان د خپل ځان ملګری او مدد ګار کړی، نو سخته خرابي او فتنه پیدا کیږی (یعني موجبات به ئې پیدا کیږی) یعني ضعیف مسلمان مأمون نشي پاتي کیدی او حتیٰ د ایمان ویره ئې شته. ځکه چه د مؤمنانو بې اتفاقي د کفر د غلبې موجب او د اسلام د ذلت سبب دی.
اوس الله جل جلاله د هجرت او د نصرت د جزا بیان داسي فرمائي

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ آوَوا وَّنَصَرُوا أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا ۚ لَّهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴿۷۴﴾

او هغه کسان چه ایمان ئې راوړی دی او هجرت ئې کړی دی او جهاد ئې کړی دی په لاره د الله کښي او هغه کسان چه ځای ئې ورکړی دی (مهاجرینو ته) او مددګاری ئې کړی ده (له رسول الله او مهاجرنیو سره) دغه موصوف په دغو صفاتو سره هم دوی دي مؤمنان په حقه (رښتیا) سره دوی لره دی مغفرت (بښنه) او رزق (روزی) نیکه «د عزت چه جنت دی»

**تفسیر:** یعني هغه مجاهدین چه د خدای په لاره کښي له خپل مشر سره ملګری وی په دنیا او هم په آخرت کښي له کور کیناستونکو ښخه غوره دی. په آخرت کښي دوی ته لوی بخشش دی او په دنیا کښي د عزت روزی یعني غنیمت او نور پوره حقوق (دوی ته بې له احسانه او نقصانه پریمانه) وررسیږی.

وَالَّذِينَ آمَنُوا مِن بَعْدُ وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا مَعَكُمْ فَأُولَٰئِكَ مِنكُمْ ۚ وَأُولُو الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ بِبَعْضٍ فِي كِتَابِ اللَّهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٧٥﴾

او هغه کسان چه ایمان ئی راوړو وروسته (له دغه لومړنی هجرت څخه) او هجرت ئی وکړ او جهاد ئی وکړ په ملګری توب ستاسی نو دغه (ستایل شوی په دغو صفاتو) له تاسی څخه دی؛ او خاوندان د خپلوی ځینی د دوی غوره دی (د میراث په وړلو سره) په ځینو نورو په حکم د الله کښی؛ بیشکه الله پر هر شی باندی ښه عالم دی (او هم ده ته معلوم دی چه د هر یوه څومره حق دی نو د الله هر حکم پر علم او حکمت بنا دی)

**تفسیر:** یعنی په مهاجرینو کښی څومره چه وروسته له دی نه شاملیږی، هغه ګرد (تول) د احکامو په اعتبار په (لومړنیو مهاجرینو) کښی داخل دی، د هجرت تقدم او تاخر په صلحه او جنګ یا په میراث او نورو احکامو هیڅ اثر نه اچوی خو که د مخکنیو مهاجرینو کوم خپلوان وروسته مسلمان شی، یا پسته هجرت وکړی نو دغه جدید وارث پر هغه قدیمی مهاجر اولیت او اولویت لری، که څه هم له نورو سره ملګرتیا ولری د اصحابو د اولیت او اولویت په نسبت په (١١) جزء د (التوبة) په (١٠٠) آیت د «١٣» رکوع په تفسیر کښی لازم توضیحات شته (من اراد مطالعته فلیراجع).

سورة (التوبة) مدنية الا الآيتين الأخريين فمكيتان وهى مائة وتسع وعشرون آية وستة عشر ركوعا رقمها «٩» تسلسلها حسب النزول «١١٣» نزلت بعد (المائدة)

د «التوبة» سورت مدنی دی پرته (علاوه) له دوو وروستنیو آیتونو څخه چه «مکی» دی (١٢٩) آیتونه او (١٦) رکوع لری په تلاوت کښی (٩).

او په نزول کښی (١١٣) سورت دی د «المائدة»

له سورت څخه وروسته نازل شوی دی

د (الانفال) سورت د هجرت په اوائل کښی او دا (د التوبه یا د براءة) سورت د هجرت په اواخرو کښی نازل شوی دی. د رسول اکرم صلی الله وآله وصحبه وسلم دا عادت ؤ چه د هر قرآنی آیت په نسبت چه نازلیده داسی به ئی فرمایل چه دغه آیت دی د هغه سورت په هغه موقع کښی کیښود شی! د دغو آیتونو په نسبت چه اوس د «التوبة» سورت یا د «براءة» سورت ورته

ویلی شی رسول الله مبارک څه تصریح ونه فرمایله، چه په کوم سورت کښې دی درج کړی شی. له دی نه ظاهریږی چه دغه مستقل سورت دی او د بل کوم سورت جزء نه دی. لیکن عمومی قاعده داسی وه، کله چه به کوم نوی سورت نازلیده، نو له پخوانی سورت څخه د جلا (جدا) کیدلو له پاره ﴿ بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴾ به هم راتله د (التوبة) د سورت په شروع کښې ﴿ بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴾ رانغله څو مشعر وی چه دغه بیل سورت نه دی نظر په دغو وجوهو په عثمانی مصاحفو کښې د دغه سورت په شروع کښې ﴿ بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴾ نه ده لیکلی شوی. لیکن په کتابت کښې د ده او د (انفال) په منځ کښې فصل کړی شوی دی چه نه په پوره ډول (طریقه) سره د هغه استقلال ښکاره شی او نه ئی له بل سورت سره جزویت ثابت وی، باقی له (انفال) سره د ده د اتصال وجه دا ده چه (انفال) په نزول کښې مقدم دی نو بی کومی خاصی وجی څخه ولی مؤخر کړی شی او د دغو دواړو مضامین یو له بل سره دومره ارتباط او ورته والی لری چه ګواکی (براءة) ته د (انفال) تتمه او تکمله ویلی شی. د (انفال) سورت زیاتره د بدر په غزا او د هغه په متعلقاتو مشتمل دی (یوم البدر) ته قرآن (یوم الفرقان) ویلی دی ځکه چه هغه د حق او باطل، د اسلام او کفر، د موحدینو او مشرکینو وضعیت بیخی سره بیل او جلا (جدا) کړ. د بدر غزا فی الحقیقت د اسلام د عالم نیوونکی او ټینګی وروری د تعمیر د تاداو (بنیاد) او د هغه د اساس تیږه (ګټه) ده. او د اسلام د حکومت د تاسیس مقدمه ده، د انفال د سورت په آخر کښې د ﴿ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٍۚ ﴾ په مقابل کښې د خالص اخوت د تحکیم په منظور ﴿ إِلَّا تَفۡعَلُوهُ تَكُن فِتۡنَةٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَفَسَادٞ كَبِيرٞ ﴾ راغلی دی، د هغه ښکاره اقتضاء دا ده چه په حسی ډول (طریقه) سره هم د دغه اسلامی وروری د ټینګولو له پاره یو قوی مرکز وتاکل (مقرر) شی او دا هم معلومه ده چه دغه مرکز له جزیرة العرب څخه پرته (علاوه) چه مکه معظمه ئی زړه دی بل ځای نشی کیدی. د (انفال) په آخر کښې دا هم څرګنده شوی وه هغه مسلمانان چه له مکی معظمی او نورو ځایونو څخنی ئی هجرت نه دی کړی، او د کفارو تر سیوریو لاندی ژوندون تیروی د دارالاسلام آزاد او خپلواک مسلمانانو باندی د هغوی د ولایت او رفاقت هیڅ یوه ذمه واری نشته. ﴿ مَا لَكُم مِّن وَلَٰيَتِهِم مِّن شَيۡءٍ حَتَّىٰ يُهَاجِرُواْۚ ﴾ . هو ! د توان په اندازه له دوی سره مرسته (مدد) په کار ده. له دی نه دغه نتیجه ووته چه د اسلام په مرکز کښې د اسلامی موالاتو او اخوت د کړیو د کلک ارتباط له پاره له دوو خبرو څخنی یوه خبره ضروری ده. یا د عربو ګرد (ټول) مسلمان دی خپل وطنونه پریږدی او مدینی منوری ته دی راشی او په اسلامی اخوت کښې دی بی له کوم ممانعته شامل شی یا دی آزاد او خپلواک مسلمانان د خپلو مجاهداتو او سر جارولو په وسیله د کفر قوت مات کړی او د جزیرة العرب سطحه دی داسی پاکه او صافه او هواره کړی چه هیڅ یوه مسلمان ته د هجرت کولو ضرورت پاتی نشی یعنی تقریباً ګرده (ټوله) جزیرة العرب دی د خالص اسلامی اخوت داسی یو قوی مرکز او غیر مخلوط مستقر وګرځی چه نور ادیان پکښې نه وی، او د هغه تر حمایت لاندی د اسلامی اخوت د دیر ټینګ او شانداره مستقبل هیله (ارزو) او امید وکړی شی. دغه دوهم صورت

هم داسې يوه وسيله وه چه په هغې سره ورځ په ورځ د فتنې او فساد بيخونه ايستل کيدل، او د اسلام مرکز د کفارو له داخلي فتنو څخه بيخي پاک او صاف کيده او د هرې ورځې له وعدې ماتولو او د ظلمونو له کولو څخه بيخي مأمون او مطمئن گرځيده، او تمامې دنيا ته په ځپل عالم نيوونکي اخوت کښې د داخليدلو بلنه ورکول کيده، د دغه اعلىٰ او پاک مقصد له پاره مسلمانانو د هجرت په دوهم کال کښې اول قدم د (بدر) د ميدان په لورې واخيست چه بالاخره د هجرت په اتم کال کښې د مکې معظمې لويې فتحې ته منتهي شو. هغه فتنې چه د اسلام په اشاعت يا حفاظت کښې مزاحمې کيدې، د مکې فتحې له مينځه يوړې، نو ضروري وه چه د ﴿ وَقَٰتِلُوهُمۡ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتۡنَةٞ ﴾ په امتثال سره د اسلامي اخوت مرکز او د حکومت مستقر (جزيرة العرب) د فتنې او فساد له جراثيمو څخه بيخي صاف او پاک کړې شي څو له هغه ځايه گردې (تولې) دنيا ته د اسلامي ديانت او د حقيقي تهذيب د دعوت په وخت کښې تقريباً گرد (تول) جزيرة العرب قولاً او عملاً قلباً او جسماً سره متحد او متفق شي، او هيڅ يوه داخلي کمزوري او بې اتفاقي مينځ ته رانشي څو د خارجي مزاحماتو په مرسته (مدد) دغه مقدس جمعيت ته نقصان ونه شي رسولى، د هر ډول (طريقه) فساد او فتنې څخه د جزيرة العرب د پاکولو او د دې له پاره چه اسلامي مرکز د اسلامي عامي ورورى د بلنې له پاره مساعد شي لازم ؤ چه د اسلامي دعوت خالص مرکز په اسلامي رنگ سره رنگ کړې شي چه د ده د قلب او ځيگر ځنې د حق له دعوت څخه پرته (علاوه) بل کوم غږ پورته نشي او د دنيا غوږونو ته ونه رسي او دغه گرده (توله) جزيره د تول جهان معلم او هادي شي او د کفر او د ايمان جگړه تل تر تله په دې ځاى کښې خاتمه ومومي او توله دنيا د اسلام په نور سره منوره وگرځي.

د (براءة) د سورت د مضامينو حاصل هم دا دى چه په څو ورځو کښې د الله تعالىٰ د رحمت او عظمت او د مسلمانانو د صداقت په قوت دغه د اسلام مرکز له هر ډول (طريقه) دسيسو کفر، شرک، او نورو څخه پاک شو، او گرد (تول) عرب لکه يو تن سره متحد شول او په گرد (تول) عالم کښې د هدايت رڼا (رڼا) او د عالم نيوونکي اسلامي اخوت د انتشار کفيل او ضامن وگرځيد فلله الحمد علىٰ ذلک.

الغرض د (انفال) په سورت کښې د هغه شي ابتداء چه شوې ده د (التوبة) يا (براءة) په سورت کښې هغه انتهاء ده، نو د دې اول او آخر تناسب په لحاظ (براءة) د (انفال) د تکملې په شان ملحق کړې شوې دى په دغه سورت کښې د تسميې د نه ليکلو يوه وجه دا هم ليکلې شوې ده چه تسميه دپاره د امان ده او دغه سورت د هجرت په نهم کال په هغه وخت کښې چه د عربو ځينو اقوامو له مسلمانانو سره ځپلې معاهدې ماتې کړې وې، د امان د له منځه وړلو له پاره راغلې دى او له هم دې امله (وجې) ده ته مخزيه مشرده، منکله، او فاضحه هم ويلې شي د دې سورت په نسبت مفسرينو نور مناسبات هم ليکلي دي (علىٰ الاکثر قاريان د دغه سورت په ابتداء کښې داسې وائي)

**اعوذ بالله من النار ومن شرالكفار، ومن غضب الجبار، العزة لله ولرسوله وللمؤمنين.**

بَرَآءَةٌ مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِۦٓ إِلَى الَّذِينَ عَٰهَدتُّم مِّنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١﴾
فَسِيحُوا فِي الْأَرْضِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَاعْلَمُوٓا أَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي اللَّهِ
وَأَنَّ اللَّهَ مُخْزِي الْكَٰفِرِينَ ﴿٢﴾

(دا) بیزاری (یا صاف ځواب) دی له (طرفه د) الله او (له طرفه) د رسول د الله هغو کسانو ته چه عهد ورسره کړی دی تاسی له مشرکانو نو ګرځئ تاسی په (دغه) ځمکه کښی څلور میاشتی او پوه شئ (ای مشرکانو په دی!) چه بیشکه تاسی نه یئ عاجز کوونکی د الله (د عذاب خپل چه شوکت مهلت ئی درکړ) او (پوه شئ په دی چه) بیشکه الله رسوا کوونکی د کافرانو دی.

**تفسیر:** د هجرت په شپږم کال کښی د حدیبیی په مقام کښی کومه معاهده چه د نبی کریم علیه افضل الصلواة والتسلیم او د قریشو په منځ کښی وشوه نو بنی خزاعه د مسلمانانو او بنی بکر د قریشو په حلیفانو کښی شامل شول بنی بکرو د معاهدی څه پروا ونه کړه او پر بنی خزاعه ۋ ئی حمله وکړه او قریشو په وسلو او نورو شیانو له دوی سره کومک (مدد) وکړ، او د دی له امله (وجی) قریش او د دوی حلیف دواړه د حدیبیی پر معاهده قائم پاتی نه شول چه د هغه په مقابل کښی د هجرت په اتم کال نبی کریم صلی الله علیه وسلم پر مکی معظمی باندی حمله وکړه او هغه ئی په آسانی سره فتح کړه له دغو قبائلو څخه پرته (علاوه) له نورو قبائلو سره هم د مسلمانانو میعادی او غیر میعادی معاهدی وی چه له هغوی څخه ځینی په خپلو معاهدو ولاړ وو، دیر قبائل داسی هم وو چه له هغوی سره هیڅ یو قسم معاهده نه وه شوی د دغه سورت مختلف آیتونه د مختلفو قبائلو په نسبت نازل شوی دی. په ړومبنیو آیتونو کښی غالباً د هغو مشرکینو ذکر دی چه له هغو سره خو معاهده شوی وه مګر غیر میعادی، دوی ته خبر ورکړ شو، چه مونږ وروسته له دی نه له تاسی سره معاهدی ته دوام نه ورکوو او ماتوو ئی او تاسی ته څلور میاشتی مهلت درکوو چه په دغه موده کښی به یا په اسلامی اخوت کښی داخلیږئ، یا به دغه وطن پریږدئ او د ایمان او توحید له مرکز څخه به وځئ، یا به د جنګ له پاره تیاریږئ؟ لیکن ښه وپوهیږئ چه تاسی د الله تعالیٰ مشیت او اراده له سره نشئ منع کولی، که تاسی اسلام رانه وړئ، نو الله تعالیٰ به مو په دنیا او آخرت کښی رسوا کړی او تاسی به خپلو تدابیرو او حیلو او پلمو (منصوبو) سره هغه نشئ عاجزولی، باقی هغه قبائل چه معاهده ورسره نه وه شوی، ممکن

چه هغوی ته هم د څلورو میاشتو مهلت ورکړی شوی وی دغه ابلاغ او هم دا رنګه د راتلونکو آیتونو عمومی اعلان د هجرت په نهم کال د حج په موقع د ګردو (تولو) قبائلو په منځ کښې حضرت علی کرم الله وجهه وکړ چه په دی وخت کښې حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه) امیر الحجاج ؤ،

وَاَذَانٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖۤ اِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْحَجِّ الْاَكْبَرِ اَنَّ اللّٰهَ بَرِىْٓءٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۙ وَرَسُوْلُهٗ ؕ فَاِنْ تُبْتُمْ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوْۤا اَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِى اللّٰهِ ؕ وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ۙ ﴿۳﴾

او خبرول (آورول) دی له (طرفه د) الله او رسول د دغه «الله» تولو خلقو ته په ورځ د حج لوی کښې په دی چه الله بیزاره دی له مشرکانو (او د دوی له عهد). او رسول د دغه (الله هم بیزاره دی) نو که توبه وویسته تاسی له (شرکه او غدره) نو دا خیر (بهتره غوره) دی تاسی ته (له شرکه او غدره) او که مخ واړاوه تاسی (له توبی په شرک مو دوام وکړ) نو پوه شئ (ای مشرکانو!) بیشکه تاسی نه یئ عاجز کوونکی د الله (د عذاب خپل)؛ او زیری ورکړه هغو کسانو ته چه کافران شوی دی په عذاب دردناک (د آخرت) سره.

**تفسیر:** (حج اکبر) ئې ځکه وفرمایه چه (حج اصغر) عمره ده او له (یوم الحج الاکبر) څخه د ذیحجة الحرام لسمه د لوی اختر ورځ یا نهم تاریخ د عرفی ورځ مراد ده. دغه اعلان غالباً د هغو قبائلو په حق کښې دی چه هغوی میعادی معاهده کړی وه بیا ئې په خپله ماته کړه (لکه بنی بکرو یا قریشو او نورو) یعنی له داسی خلقو سره اوس هیڅ قسم معاهده نه ده پاتی، خو که بیا هم دغه خلق له شرک او کفر څخه توبه وباسی نو د دوی دنیا او آخرت دواړه ښه کیږی که نه د الله تعالیٰ هغه اراده چه کړی ئې ده (د جزیرة العرب تطهیر) هغه ضرور پوره کیدونکی ده هیڅ یو طاقت او تدبیر هغه نشی مغلوبولی او کفارو ته د دوی د کفر او بد عهدی سزا هرومرو (خامخا) رسیږی.
**تنبیه:** که څه هم د مکی معظمی له فتحی څخه پخوا یعنی د هجرت له اتم کال نه مخکښی د دغو قبائلو له خوا عهد مات شوی ؤ چه د هغه په سزا کښې مکه معظمه فتح شوه، خو بیا هم د عهد ماتولو عمومی اعلان د هجرت په نهم کال د حج په موقع کښې وکړ شو، څو دغه خبره لا

ځرګنده او واضحه شي، چه له دغسې خلقو سره هيڅ قسم معاهده باقي نه ده پاتې.

إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدتُّم مِّنَ الْمُشْرِكِينَ ثُمَّ لَمْ يَنقُصُوكُمْ شَيْئًا وَلَمْ يُظَاهِرُوا عَلَيْكُمْ أَحَدًا فَأَتِمُّوا إِلَيْهِمْ عَهْدَهُمْ إِلَىٰ مُدَّتِهِمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ ﴿٤﴾

مګر هغه کسان چه عهد کړی دی تاسي (اې مسلمانانو له دوی سره) له مشرکانو بيا ئې نقصان نه دی کړی له تاسي سره هيڅ شي (د وعدې په شرطونو کښې) او نه ئې مرسته (مدد) کړی ده ستاسي په مقابل کښې له هيچا سره (ستاسي له دښمنانو ځنې) نو پوره کړئ (اې مؤمنانو) له دغو مشرکانو سره عهد د دوی تر (تماميدلو د مقررې) وعدې د دوی پورې بيشکه الله خوښوی ځان ساتونکي (له بيوفائی)

**تفسير:** دغه استثناء د هغو قبائلو له پاره ده چه معاهده ئې ميعادي وه بيا دوی پرې تينګ ولاړ وو او د عهد په ايفاء کښې ئې هيڅ قصور نه ؤ کړی، نه دوی په خپله له عهد ځخه مخالفه کارروايي کوله او نه ئې له نورو بد عهدانو سره څه مرسته (مدد) کوله (لکه بني ضمره او بني مدلج) د دوی په نسبت اعلان وکړ شو چه د معاهدې د ميعاد له ختميدلو ځخه وروسته له دوی سره بله کومه معاهده نه ترله کيږی او په هغه وخت کښې له دوی سره هم همغه لاره ده چه د نورو له پاره ده.

فَإِذَا انسَلَخَ الْأَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُوا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ ۚ فَإِن تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٥﴾

نو کله چه تيرې شوی (ځلور) مياشتې حرامي نو وژنئ (اې مؤمنانو عهد ماتوونکي مشرکان په هر ځای کښې چه ومومندل تاسي دوی او نيسئ (بنديان ـ قيديان ـ کړئ) دوی او حصار کړئ دوی (په کلاګانو کښې) او کينئ دوی ته

(منتظر) په هر ځای د ځارلو او تیریدلو کښې نو که توبه وویسته دوی (له کفره) او قائم کړ دوی (سم اداء کړ سره له تولو حقوقو) لمونځ او ورکړ دوی زکات نو خوشي کړئ تاسي لاره د دوی (او څه مه ورته وایئ) بیشکه الله ښه ښښونکی (د خطیاتو) ډیر مهربان دی ) د اجر او ثواب په انعام سره).

---

**تفسیر:** د استثناء له فراغته وروسته د مستثنٰی منه حکم بیانوی، یعنی که څه هم له د غو عهد ماتوونکو سره اوس هیڅ قسم معاهده نه ده پاتی او له هغوی سره سم د لاسه جنګ کیدی شی خو بیا هم د (اشهر الحرم) رعایت یا د دی له امله (وجی) پر دوی باندی له فوری حملی څخه مانع ؤ چه تر هغه وخت پوری په (اشهر الحرم) کښې په جنګ باندی لومړی شروع ممنوع وه، یا مصلحت دا ؤ چه د یوی وړوکی خبری له امله (وجی) د عامو خلقو په منځ کښې ولی تشویش پیدا شی؟ ځکه چه په دغو میاشتو کښې د قتال حرمت په دوی کښې معروف او مسلم او له پخوا راهیسی یوه منلی شوی خبره وه په هر حال د محرم الحرام تر ختمیدلو پوری هغوی ته مهلت ورکړ شو، چه هر دول (طریقه) د دوی زړه غواړی همغسی دی خپل ترون او بندوبست وکړی، وروسته له هغه د جزیرة العرب د تطهیر په مقصد له جنګ کولو څخه چاره نشته، نو هغه ګردی (تولی) معاملی چه په جنګ کښې کیدونکی دی (لکه وژل، نیول، چل او پلمی (منصوبی) په مورچلونو (مورچو) او پتونو کښې غلیم ته څار کول او نور) کیږی به هو! که دوی ظاهراً له کفره توبه وباسی او په اسلامی اخوت کښې داخل شی، چه د هغه لویه نښه د لمانځه اداء او د زکوٰة ورکړه ده نو بیا به مسلمانان په هغوی باندی هیڅ تعرض او غرض نه کوی او دوی به له لاری څخه نه ګرځوی پاتی شوه باطنی معامله هغه الله تعالیٰ ته ورسپارلی شوی ده د مسلمانانو معامله به له هغوی سره د هغوی د ظاهری اعمالو په اساس وی. له دی آیت څخنی معلومه شوه، که کوم سړی کلمه ووایی، او لمونځ ونه کړی یا زکوة ور نه کړی نو مسلمانان د هغه لاره نیوی شی. د امام احمد، امام شافعی او امام مالک رحمة الله علیهم په نزد پر اسلامی حکومت لازم دی که تارک الصلواة توبه ونه باسی هغه دی ووژنی د امام احمد په نزد د مرتدوالی له امله (وجی) او د امام مالک او امام شافعی په نزد حداً او تعزیراً او زمونږ امام ابوحنیفه رحمة الله علیه وایی چه ښه دی ئی ووهی او بیا دی ئی تر هغه پوری په بندیخانه کښې بندی وساتی چه یا له ترکالصلوٰة څخه توبه وباسی یا همغلته مړ شی په هر حال هم داسی پریښودل ئی د هیچا په نزد نشته. پاتی شول د زکوٰة مانعین د دوی له اموالو څخنی دی حکومت جبراً زکوٰة تحصیل کړی! که دغه خلق لاس سره یو کړی او د حکومت پر خلاف وجنګیږئ نو سمی لاری ته د دوی د راوستلو له پاره دی جنګ هم وکړ شی! حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه هغه جهاد چه د زکوٰة له مانعینو سره کړی دی د هغه واقعات د احادیثو او تاریخ په کتابونو کښې مشهور او معروف دی.

وَإِنْ أَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ اسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ حَتَّىٰ يَسْمَعَ كَلَامَ
اللَّهِ ثُمَّ أَبْلِغْهُ مَأْمَنَهُ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْلَمُونَ ﴿٦﴾

او كه يو تن له مشركانو څخه امن (پناه) وغواړي له تا(له قتله) نو پناه وركړه ته! هغه ته څو چه واوري دى كلام د الله بيا ورسوه، ته دى ځاى د امن (وطن) د ده ته (كه ايمان ئي را نه وړ) دغه (امان دپاره د اوريدلو د قرآن) په سبب د دې دى چه بيشكه دوى (داسى) قوم دى چه نه پوهيږي (په قرآن او ايمان باندى).

**تفسير:** پخوا ئي فرمايلي وو چه كه دوى له خپلو كفرياتو څخنى توبه وكړى او په اسلام كښى داخل شي نو په امن كښى به شي، ممكن ؤ چه كوم يو سړى د اسلام له اصولو او احكامو څخه بيخبره وى او د تحقيق او د شكونو د لرى كولو له پاره مسلمانانو ته راتلل وغواړى نو د هغو په نسبت ئي فرمايلي دي چه ته دغسى كسانو ته پناه وركړه او ويى ساته! او د الله تعالىٰ كلام او د اسلام حقايق او دلائل ور واوروه! كه قبول ئي نه كړى مه ئي وژنه! بلكه هغه د خپلى هستوګنى او د امن ځاى ته ورسوه چه هلته مامون او مطمئن شي وروسته له هغه دغه هم لكه د نورو ګردو (ټولو) كافرانو په شان دى دغه د امن وركولو حكم ځكه وركړى شوى دى چه له اسلامى اصولو او حقائقو څخنى دغه وګړى نه دى خبر، نو ښائى هغوى ته حق په ډير واضح او ښه دول (طريقه) سره ورښكاره كړ شي كه وروسته له هغه دغه مستامنان او پناه غوښتونكى د عناد له لارى وا نه وښتل او همغسى معاند پاتى شول نو د ﴿ قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ ﴾ څخه وروسته په دين كښى څه زور او زياتى او جبر او اكراه نشته او د امان له رفعى څخه وروسته به له هغوى سره د نورو كفارو په شان معامله وشي.

كَيْفَ يَكُونُ لِلْمُشْرِكِينَ عَهْدٌ عِندَ اللَّهِ وَعِندَ رَسُولِهِ
إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدتُّمْ عِندَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۖ فَمَا اسْتَقَامُوا
لَكُمْ فَاسْتَقِيمُوا لَهُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ ﴿٧﴾ كَيْفَ وَإِن
يَظْهَرُوا عَلَيْكُمْ لَا يَرْقُبُوا فِيكُمْ إِلًّا وَلَا ذِمَّةً ۚ يُرْضُونَكُم
بِأَفْوَاهِهِمْ وَتَأْبَىٰ قُلُوبُهُمْ وَأَكْثَرُهُمْ فَاسِقُونَ ﴿٨﴾

ځرنګه به وی مشرکانو ته عهد په نزد د الله او په نزد د رسول د دغه (الله) (یعني نه به وی) مګر هغه کسان چه عهد کړی دی تاسی (ای مومنانو له دوی سره) په نزد د مسجد الحرام (او بیا ئی نه دی مات کړی) نو څو چه برابر ولاړ اوسی دوی تاسی ته (په عهد خپل) نو برابر ولاړ اوسئ تاسی (هم په عهد خپل) له هغوی سره؛ بیشکه چه الله خوښوی ځان ساتونکی (له بیوفائی نه) ځرنګه (به وی دوی ته عهد او څه اعتبار دی پری) حال دا که لاس بر شی د دوی پر تاسی نه ګوری (لحاظ نه کوی) دوی په باب ستاسی کښی (نه) قرابت (یا قسم) ته او نه عهد ته (او هسی برید (شور) به درباندی وکړی) راضی کوی دوی تاسی په (تشو خبرو د) خولو خپلو سره او منع کوی زړونه د دوی (د وعدی له وفاء) او زیاتره د دوی فاسقان (له فرمان څخه وتونکی) دی.

---

**تفسیر:** په پخوانیو آیتونو کښی چه براءة اعلان شوی ؤ دلته ئی حکمت بیانوی یعنی د عربو له دغو مشرکینو سره څنګه عهد قائم پاتی کیدی شی؟ او وروسته له دی نه ځرنګه صلح ورسره کیدی شی؟ چه د هغوی احوال ستاسی مسلمانانو سره داسی دی که کوم وخت لږ څه فرصت پیدا کړی او لاس ئی پر تاسی باندی بر شی نو په ربړولو (تکلیف ورکولو) او نقصان رسولو کښی مطلقاً نه د قرابت لحاظ کوی او نه د قول او اقرار. خو ځرنګه چه ئی په تاسی غلبه او بری نه دی حاصل کړی نو ځکه له تاسی سره تش د ژبی عهد او پیمان کوی او تاسی خوښوی، که نه دوی په زړونو کښی یوه شیبه هم پر دغه عهد باندی راضی نه دی او هر وخت د عهد ماتولو موقع او فرصت لټوی ځرنګه چه په دوی کښی زیاتره وعده ماتوونکی غداران او بد عهدان دی که څه هم د دوی په منځ کښی یو یا دوه تنه د عهد د وفا خیال هم کوی خو د اکثریت په مقابل کښی د هغو له لاسه هیڅ نه کیږی په هر حال له داسی تګانو او بد عهد قوم سره ځرنګه د الله تعالیٰ د رسول الله صلی الله علیه وسلم عهد کیدی شی، هوا له هغو قبائلو سره چه تاسی بالخصوص د مسجد الحرام په قرب کښی معاهده کړی ده نو تاسی ابتداء د هغی په ماتولو کښی اقدام مه کوئ تر هغه پوری چه دوی د وفاداری په لاره باندی سم روان دی تاسی هم له هغوی سره بالمثل معامله وکړئ او ډیر احتیاط وکړئ چه هیڅ یوه ناوړه (غلطه) ، او کوچنی (وړه) خبره هم داسی پیښه نشی چه د هغی په وسیله ستاسی لمن د عهد ماتولو په پلیتی او نجاست ککړه او داغی شی الله تعالیٰ ته همغه کسان محبوب دی چه پوره احتیاط کوی لکه بنی کنانه (او بنی ضمرة) او نور چه له مسلمانانو سره ئی بد عهدی نه وه کړی نو مسلمانانو هم په نهایت دینداری او احتیاط سره په خپل عهد وفا وکړه د براءة د اعلان په وخت کښی د دوی د معاهدی د نیتی تیریدو ته لا(۹) میاشتی پاتی وی خو په دغو نهو میاشتو کښی هم دغه معاهده محترمه او معموله وه.

اِشْتَرَوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيْلًا فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِهٖ ؕ
اِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝۹ لَا يَرْقُبُوْنَ فِيْ مُؤْمِنٍ اِلًّا
وَّلَا ذِمَّةً ؕ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُعْتَدُوْنَ ۝۱۰

پيرودلي (او اخيستي) دي دوی په آيتونو (احکامو) د الله قيمت لږ نو منع کوی دوی (خلق يا په خپله ځنګ کوی) له لاری د الله (يعني له دين يا حج يا عمری څخه)؛ بيشکه دوی بدکار دی هغه شي چه وو دوی چه کاوه به ئی (هغه دا دی چه). نه ګوری (نه ساتي لحاظ نه کوی) دغه عهد ماتوونکي په (حق د هيڅ) مؤمن کښي د قرابت (يا د قسم) او نه د عهد؛ او دغه کسان هم دوی دی تيريدونکي (له حده په شرارت کښي).

**تفسير:** يعني دغه مشرکان هغه وګړی (خلق) دی چه دوی د دنيا په لږه طمعه او د خپلو نفسي غوښتنو او اغراضو لامله (له وجی) د الله تعالیٰ احکام او هدايات ترديد کړی او نه ئی دی منلی. نو څکه هم دوی په خپله د الله تعالیٰ په سمه لاره باندی نه ځی او نور خلق هم پر هغې لاری باندی تللو ته نه پرېږدی نو دوی د عهد ماتولو له ګناه څخه څه ويرېږی؟ او په خپلو خبرو، قولونو او اقرار باندی به څرنګه تينګ پاتی کيږی؟. نه ګوری او نه ساتی او لحاظ نه کوی دغه عهد ماتوونکي په حق د هيڅ مؤمن د قرابت يا د قسم او نه د عهد او دغه کسان هم دوی دی تيريدونکي له حدودو څخه په شرارت کښي يعني دوی تش ستاسی سره دښمني او عداوت نه لری، بلکه د اسلام او مسلمانی له نامه سره هم سخت بغض او عداوت لری. هر يوه مسلمان باندی ئی چه لاس بر شي فرصت او موقع ومومي نقصان وررسوی او د نقصان رسولو په وخت کښي د هيڅ تعلق، قرابت خپلوی عهد، پيمان، قول، اقرار او ترون لحاظ او خاطر نه کوی په دغه مورد کښي د دوی ظلم او تجاوز له حده زيات تيری کړی دی.

فَاِنْ تَابُوْا وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ فَاِخْوَانُكُمْ فِى الدِّيْنِ ؕ وَنُفَصِّلُ
الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ۝۱۱ وَاِنْ نَّكَثُوْٓا اَيْمَانَهُمْ
مِّنْۢ بَعْدِ عَهْدِهِمْ وَطَعَنُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ فَقَاتِلُوْٓا
اَئِمَّةَ الْكُفْرِ ۙ اِنَّهُمْ لَآ اَيْمَانَ لَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَنْتَهُوْنَ ۝۱۲

نو که توبه وویسته (دوی له کفره) او قائم کړ دوی (سم ئی اداء کړ سره له
تولو حقوقو) لمونځ او ورکړ دوی زکوٰة نو ورونه ستاسی دی په دین (حکم د
شریعت) کښی او په تفصیل بیانوو (مونږ) آیتونه (حکمونه د قرآن) دپاره د
(هغه) قوم چه پوهیږی (او فکر پکښی کوی). او که مات کړل دغو
(مشرکانو) قسمونه خپل وروسته له عهد تړلو د دوی (له تاسی سره) او
پیغورونه درکړل (عیبونه ئی ولګول) په دین ستاسی کښی نو وجنګیږئ تاسی
له (دغو) مشرانو د کفر سره (او وئی وژنئ) بیشکه دوی نشته قسمونه دوی
ته (او قسم ئی له سره قسم نه دی) له پاره د دی چه دوی واوړی (له پیغور
یا د عهد له ماتولو یا له شرکه).

**تفسیر:** یعنی که اوس له کفره توبه وباسی او دینی احکام (لکه لمونځ زکوٰة او نور) په ځای کړی نو نه یوازی په آینده کښی مأمون او محفوظ پاتی کیږی بلکه په اسلامی دین کښی به هم شامل وی او د هغو حقوقو مستحق ګرځی چه نور مسلمانان ئی مستحق دی.

او هغه ګردی (تولی) بد عهدی او شرارتونه چه پخوا له دی نه ئی کړی وی تول ورمعاف کیږی.

حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی (چه دوی د شریعت په حکم ورونه دی، له دی نه معلومیږی هر هغه څوک چه په ظاهر کښی مسلمان بریښی او په زړه کښی یقین نه لری نو هغه په ښکاره ډول (طریقه) سره مسلمان وګڼئ! مګر دوست او معتمد ئی مه ګرزوئ!.)

(او که مات کړی دغه مشرکان قسمونه خپل وروسته له عهد تړلو د دوی له تاسی سره او پیغورونه درکړی او عیبونه ولګوی په دین ستاسی کښی ای مؤمنانو، نو وجنګیږئ تاسی له دغو مشرانو د کفر سره او وئی وژنئ بیشکه دوی نشته قسمونه دوی ته او قسم ئی له سره قسم نه دی) یعنی که عهد او پیمان ئی مات کړی لکه چه «بنی بکرو» د معاهدی په خلاف پر «بنی خزاعه ؤ» حمله وکړه او قریشو له دغو حمله کوونکو سره مرسته (مدد) وکړه او له کفره ئی لاس وانخیست بلکه د حق دین په نسبت په طعن ویلو او ګستاخی کولو او عیبونو لتولو باندی ئی دوام وکړ، نو وپوهیږئ چه دغسی وګړی (خلق) او عالم «ائمة الکفر- د کفر مشران» دی ځکه چه نور خلق د دوی دغه حرکات او اعمال وینی او خبری ئی اوری او دیر بی لاری او ناپوه کسان د هغو تقلید کوی، نو له داسی مشرانو سره په ښه ډول (طریقه) مقابله وکړئ، ځکه چه د دوی هیڅ قول، قسم، عهد او پیمان باقی نه دی پاتی، ممکن دی چه ستاسو له لاسونو څخه دوی ته څه سزا ور ورسیږی او په هغی سره له خپلو شرارتونو سرکشی څخه بیرته وګرځی.

أَلَا تُقَاتِلُونَ قَوْمًا نَّكَثُوٓا۟ أَيْمَٰنَهُمْ
وَهَمُّوا۟ بِإِخْرَاجِ ٱلرَّسُولِ وَهُم بَدَءُوكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ ۚ

أَتَخْشَوْنَهُمْ ۚ فَاللَّهُ أَحَقُّ أَنْ تَخْشَوْهُ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿۱۳﴾

آیا نه جنګیږئ تاسی (ای مؤمنانو بلکه ضرور وجنګیږئ) له داسی قوم سره چه مات کړی دی دوی قسمونه خپل او قصد کړی دی دوی په ایستلو د رسول (زما له مکی نه) حال دا چه هم دوی شروع کړی دی له تاسی سره (جنګ او ماتول د عهد) اول کرت آیا ویریږئ تاسی له دوی نه، نو الله ښه لایق دی په دی سره چه وویریږئ تاسی تری (او له کفارو سره قتال وکړئ) که یئ تاسی مؤمنان (باور کوونکی).

**تفسیر:** قریشو خپل قسمونه او معاهدی ماتی کړی وی، ځکه چه د خپل عهد په خلاف ئی د «خزاعه ؤ» په مقابل کښی د (بنو بکرو) سره مرسته (مدد) کړی وه (حال دا چه دوی قسمونه کړی وو چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حق کښی له هیچا سره ملا نه تړو، او یو د بل حلیف به نه زهیروو، او نه به ئی رنځوو او بیا ئی د رسول الله صلی الله علیه وسلم له حلیفانو سره چه «بنی خزاعه» وو، جنګ وکړ). کفارو د رسول الله صلی الله علیه وسلم له هجرت څخه پخوا د دوی له مقدس وطن مکی معظمی څخه د دوی د ایستلو په باره کښی ئی تجویزونه نیول او هم دوی د فخر المرسلین او خاتم النبیین صلی الله علیه وعلیٰ آله وصحبه وسلم د وتلو سبب شول، ﴿ إِذْ أَخْرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُوا ثَانِيَ اثْنَيْنِ ﴾ الآیة ـ (۱۰ جزء د التوبة سورت ٤۰ آیت ٦ رکوع) په مکه معظمه کښی ئی په مسلمانانو بی له کوم سبب او موجب څخه په ظلمونو شروع وکړه که څه هم د ابو سفیان قافله له خطر څخه وژغورله (وساتله) شوه، خو یوازی د کبر او غرور له لاری د بدر میدان ته د مسلمانانو سره د جنګ په نیت لاړل او د حدیبیی د صلحی څخه وروسته دوی په عهد ماتولو باندی لاس پوری کړ او د مسلمانانو د حلیفانو (بنی خزاعه ؤ) په مقابل کښی ئی بنی بکر تشجیع، تحریک کړل او په وسلو او تجهیزاتو او نورو شیانو ئی له هغوی سره مرسته (مدد) وکړه بالاخر مسلمانانو له هغو سره غزا وکړه او مکه معظمه ئی د دوی له قبضی څخه خلاصه کړه د ﴿ أَلَا تُقَاتِلُونَ قَوْمًا ﴾ الآیة ـ څخه دغه غرض معلومیږی هر قوم چه دا قسم احوال لری له هغوی سره په جنګیدلو کښی مسلمانانو ته هیڅکله هیڅ تامل او تردد نه دی په کار، که له مسلمانانو سره د کفارو له قوت او جمعیت او وسلی او سامان او نورو څخی ویره وی، نو مؤمنانو لره له ګردو (تولو) څخه زیات د الله تعالیٰ خوف او ویره په کار ده. کله چه د الله تعالیٰ ویره په زړونو کښی راشی نو بیا ګردی (تولی) نوری ویری له زړونو څخه ووځی او د الله جل جلاله له قهر او غضب څخی ویره او لړزه پیدا کیږی، ځکه چه نفع او ضرر ګرد (تول) د الله تعالیٰ په قدرت او واک کښی دی. او هیڅ یو مخلوق د الله تعالیٰ له مشیت څخه پرته (علاوه) لره ګته (فائده) او زیان هم چا ته نشی رسولی او نه پری قدرت لری.

قَاتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ وَيُخْزِهِمْ وَيَنصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِينَ ﴿١٤﴾ وَيُذْهِبْ غَيْظَ قُلُوبِهِمْ ۗ وَيَتُوبُ اللَّهُ عَلَىٰ مَن يَشَاءُ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٥﴾

وجنگیږئ تاسی له دغو «کفارو» سره «ای مؤمنانو» چه په عذاب کړی دوی الله په لاسونو ستاسی (په قتل سره) او رسوا کړی دوی (په مغلوبیت او مقهوریت سره) او مرسته (مدد) درکړی تاسی ته پر دغو «کفارو» باندی او شفاء ورکړی «زخمی» سینو د قوم مؤمنانو ته (او یخ او روغ کړی زخمی زړونه د دوی). او لری کړی (بوځی) قهر (او خفگان) د زړونو د دغو (مؤمنانو چه د کفارو له ایذاء څخه پیدا ؤ) او رجوع کوی الله په رحمت سره پر هغه چه اراده وفرمائی «د هدایت ئی» او الله ښه عالم دی «په تولو احوالو او اشیاؤ» ښه حکمت والا دی.

**تفسیر:** په دغه آیت کښی ئی د جهاد د مشروعیت پر اصلی حکمت تنبیه وفرمایله په عظیم الشان قرآن کښی د پخوانیو اقوامو هغه قصی چه بیان شوی دی له هغو ځنی ظاهرېږی کله به چه کوم قوم په کفر او شرارت او د انبیاؤ علیهم السلام په تکذیب او عداوت کښی له حد او اندازی څخه تیری کاوه نو د قدرت له جانبه به داسی تباه کوونکی آسمانی عذاب پر دوی باندی نازلیده چه په هغه سره به د دوی د گردو (تولو) مظالمو او کفریاتو یو ناڅاپی خاتمه راتله ﴿ فَكُلًّا أَخَذْنَا بِذَنبِهِ ۖ فَمِنْهُم مَّنْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا وَمِنْهُم مَّنْ أَخَذَتْهُ الصَّيْحَةُ وَمِنْهُم مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ الْأَرْضَ وَمِنْهُم مَّنْ أَغْرَقْنَا ۚ وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَٰكِن كَانُوا أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴾ (۲۰ جزء د العنکبوت ۴۰ آیت ٤ رکوع) هیڅ شبهه نشته چه د عذاب دغه اقسام ډیر سخت مهلک او د راتلونکو نسلونو (تکمو) له پاره ډیر عبرتناک وو، لیکن په دغو صورتونو کښی معذبینو ته په دنیا کښی د خپل ذلت او رسوائی مشاهده نه میسریده او نه په مستقبل کښی د توبی او د رجوع له پاره کومه موقع او امکان باقی پاتی کیده ـ د جهاد د مشروعیت اصلی غرض او غایه دا ده چه مکذبینو او فتنه آچوونکو ته الله تعالیٰ د بلاواسطی عذاب ورکولو په ځای د خپلو مخلصو وفادارو بندگانو په لاس سزا ورکړی د سزا ورکولو په دغه صورت کښی د مجرمینو تذلیل او رسوائی او د مخلصینو تقدیر او سر لوړی ډیره زیاته کیږی او د وفادارو بندگانو نصرت او غلبه علانیه ظاهرېږی د دوی زړونه د دغی منظری له لیدلو څخه یخیږی چه هغه وگړی (عالم) او خلق چه تر پرون پوری ئی مونږ ته د حقارت او سپکتیا په سترگو سره کتل او

پر مونږ باندی ئی ظلم، تیری، استهزاء او تمسخر کاوه او پر مونږ باندی ئی ملندی وهلی نن د الله تعالیٰ په تائید او رحمت سره هم دا زمونږ رحم، کرم، عدل، انصاف او انسانیت ته سپارلی شوی دی، د کفر او باطل د شوکت او ننداری له لیدلو څخه اهل الحق پخسیدل او ویلیدل یا هغه ضعیف او مظلوم مسلمانان چه د کفارو د مظالمو انتقام ئی نشو اخیستلی او له دی سببه د دوی په سرونو کښې قهر او غصه، غیظ او غضب جوش کاوه او دوی خپلی شوندی هم نشوی خوځولی اوس د جهاد فی سبیل الله په وسیله د دوی زړونه تسکین مومی آخری خبره دا ده چه په خپله د مجرمینو په حق کښې هم دغه د سزا ورکولو طریقه نسبتاً ډیره نافع ده، ځکه چه د سزا موندلو څخه وروسته هم د رجوع او توبی دروازی پرانستلی دی او ډیر ممکن دی چه له حالاتو څخه عبرت حاصل کړی او ډیرو مجرمینو ته توبه ور په برخه شی لکه چه د رسول الله مبارک په زمانه کښې هم داسی هم وشول چه په لږه موده کښې گرد (تول) عرب د زړه له صدقه مسلمانان شول. ﴿وَاللّٰهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ﴾ او الله ښه عالم ښه حکمت والا دی چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی) یعنی په هر یوه حالت باندی ډیر ښه پوهیږی، په حکمت سره معامله کوی. او په هره زمانه کښې د هغه د اقتضاء سره سم احکام لیږی.

---

أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تُتْرَكُوا وَلَمَّا يَعْلَمِ اللَّهُ الَّذِينَ جَاهَدُوا مِنكُمْ وَلَمْ يَتَّخِذُوا مِن دُونِ اللَّهِ وَلَا رَسُولِهِ وَلَا الْمُؤْمِنِينَ وَلِيجَةً ۚ وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٦﴾

---

آیا گمان کوئ تاسی (ای مؤمنانو) داسی چه (هم داسی) به پریښود شئ؟ حال دا چه له سره نه دی معلوم کړی الله (په علم ظهور سره) هغه کسان چه جهاد ئی کړی له تاسی څخه او چه نه دی نیولی دوی پرته (علاوه) له الله او پرته (علاوه) له رسول د دغه (الله) او پرته (علاوه) له مؤمنانو د پټو خبرو دوست؛ او الله ښه خبردار دی په هغو (کارونو) چه کوئ (ئی) تاسی (د نیکی او بدی).

---

**تفسیر:** (آیا گمان کوئ ای مومنانو چه له قتاله ویریږئ یا ای منافقانو داسی چه پری به ښود شئ په دی حال سره یعنی داسی له سره گمان مه کوئ، چه تشه دعوی د اسلام به ستاسی الله تعالیٰ منظوره کړی او جلا (جدا) به نه کړی په تاسی کښې مخلص له غیر مخلص څخه، الله تعالیٰ) د جهاد د مشروعیت یو بل حکمت دلته بیان فرمائی یعنی هغه کسان ډیر دی چه په خولی سره د ایمان او بندگی دعوی کوی خو که دوی د امتحان پر محک (کرکانی) باندی ونه

سولول شي نو سره او ناسره (چل او ناچل) ئې له سره نه څرګندیږي د جهاد په ذریعه الله تعالیٰ
په علم ظهور سره هم دا معلوموي چه څومره مسلمانان داسي دي چه د ده په لاره کښې خپل سر
او مال جارولو او ښندلو ته تیار دي؟ او پرته (علاوه) له الله تعالیٰ او رسول الله صلی الله علیه
وسلم بل هیڅوک خپل رازدار بادار (سردار) او خصوصي یار نه ګرځوي، اګر که هغه ډیر نژدې
خپل او قریب ئې هم وي هم دغه داسي یو معیار دی چه په هغه سره د مؤمنانو ایمان تلل او وزن
کیږي تر هغه وخته پورې چه جهاد ونشي تش د خولې په خبرو او د ژبې په جمع او خرچ سره
برې نه حاصلیږي بیا هر راز (قسم) عمل هم چه وکړ شي پر هغه هم الله تعالیٰ ښه خبردار دی چه
هغه د صدق او اخلاص له مخې شوی دی؟ یا د ښودنې او ریا له کبله (وجې) شوی؟ د هر چا
چه هر دول (طریقه) عمل وي سم له هغه سره به په آخرت کښې معامله ورسره کیږي. رښتیا
خبره ده (د هر چا عمل د لارې مل)

---

مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِينَ أَن يَعْمُرُوا مَسَاجِدَ اللَّهِ
شَاهِدِينَ عَلَىٰ أَنفُسِهِم بِالْكُفْرِ ۚ أُولَٰئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ
وَفِي النَّارِ هُمْ خَالِدُونَ ﴿١٧﴾ إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ
وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَلَمْ يَخْشَ إِلَّا اللَّهَ ۖ
فَعَسَىٰ أُولَٰئِكَ أَن يَكُونُوا مِنَ الْمُهْتَدِينَ ﴿١٨﴾

---

نشته مشرکانو ته «یعنې ناروا دي یا نه دي له شانه د مشرکانو» دا چه ودان
کړي مسجدونه د الله «په عبادت په ناسته ولاړه او ورتلو سره» حال دا چه
شاهدان وي دوی پر نفسونو خپلو په کفر سره؛ دغه «مشرکان ابته او» خراب
دي عملونه د دوی «چه ایمان نه لري» او په اور کښې به دوی همیشه وي.
بیشکه هم دا خبره ده چه ودانوي «په عبادت ناسته ولاړه په تعمیر سره»
مسجدونه د الله هغه څوک چه ایمان ئې راوړی وي په الله او په ورځې آخرې
«د قیامت» او قائموي «سم ادا کوي سره له تولو حقوقو» لمونځ او ورکوي
زکوٰة او نه ویریږي «په دیني امورو کښې له هیچا» مګر له الله څخه، نو
امید دی چه دغه کسان به وي له سمې لارې موندونکو څخې.

**تفسير:** پخوا ئی فرمايلي وو چه مسلمانان بی له امتحانه هم داسی خوشی نشی پاتی کيدلی بلکه په لويو لويو کارونو (لکه جهاد او نورو امورو) سره به د دوی ثابت قدمی ښکاره او دا به ښرگنده شي چه د گردی (تولی) دنيا پر تعلقاتو باندی الله او رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ښرنگه ترجيح ورکوی؟ په دغی رکوع کښی ئی دا راوښوده چه د الله تعالیٰ مساجد «معابد» حقيقتاً د هم داسی اولوالعزمو مسلمانانو په توجه ودان پاتی کيدی شی. د مساجدو حقيقی ودانی دا ده چه په هغو کښی د يوه الله عبادت د هغه له شانه سره لايق وشی د الله جل جلاله ذکر کوونکی په کثرت سره پکښی موجود وی څو بی له څه ممانعت او تکليف څخه د الله تعالیٰ په ياد مشغول اوسی، له بربادو او لغوياتو او خرافاتو څخه دغه پاک مقامات محفوظ وی، دغه مقصد له کفارو او مشرکينو څخه کله حاصليدی شی؟ وگورئ چه د مکی معظمی مشرکينو به دير فخر سره خپل ځانونه د مسجد الحرام متوليان او خادمان بلل ـ مگر د دوی لوی خدمت دا ؤ چه د تيرو (گتو) دير بتان ئی په کعبی شريفی کښی ايښی وو او د همغو نذرونه او نيازونه به ئی ورکول او د دوی نذرونه به ئی پر خپلو غاړو اخيستل. ډيرو کسانو به لوڅ پوڅ (بربنډ) طوافونه کول ـ د ذکر الله په ځای به ئی شپيلی وهل او لاسونه به ئی تکول، او د الله تعالیٰ رښتينو بندگانو ته به ئی اجازه نه ورکوله چه هلته ورشی. د هغوی لوی عبادت هم دا ؤ چه حاجيانو ته به ئی د څښلو اوبه ويريا ورکولی ـ يا به ئی د حرم شريف ډيوی لگولی ـ يا به ئی په کعبی شريفی پردی ځړولی ـ يا به ئی د ضرورت په وخت کښی د هغی د نړيدلو او لويدلو ځايونو ترميم او ودانولو ته توجه کوله ـ مگر دغه اعمال گرد (تول) بی روحه او بی معنی وو ـ ځکه کله چه مشرک ته د الله تعالیٰ صحيح معرفت نه دی حاصل ـ نو په هيڅ يوه عمل کښی د هغه د توجه قبله او د اخلاص مرکز د وحده لا شريک له د منبع الکمالات ذات نشی کيدی ـ نو ځکه د کافر هيڅ يو عمل د الله تعالیٰ په نزد روح نه لری او د اعتناء وړ (لايق) نه دی هم دغه ئی په ﴿ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ ﴾ سره تعبير وفرمايه الغرض هغو کفارو او مشرکانو چه په خپل حال او قال سره ئی په خپل کفر او شرک هر وخت شهادتونه ورکول د دی وړ (مستحق) او لايق نه دی چه د دوی په لاسونو د مساجد الله بيا خاص د مسجد الحرام حقيقی تعمير (ودانی) وکړی شی ـ دغه کار يوازی د هغو کسانو دی چه له زړه ئی پر الله تعالیٰ او د آخرت په لويه ورځ ايمان راوړی دی، په خپلو جوارحو سره د لمونځونو په اقامت کښی تل مشغول دی، له خپلو مالونو څخه سم له شريعته زکوٰة ادا کوی، او له الله تعالیٰ څخه پرته (علاوه) له بل چا څخه له سره نه ويريږی، نو ځکه د مساجدو د صيانت او تطهير لامله (له وجی) د جهاد له پاره خپل ځانونه تل تياروی ـ داسی مؤمنان چه په زړونو او ژبو، په لاسونو او پښو په مال او دولت په هر شی د الله تعالیٰ مطيع او حکم منونکی دی، د هغو منصبی فرض دا دی چه مساجد ودان وساتی، او په دروغو د مساجدو د تعمير دعوی کوونکی اگر که ئی خپلوان (اهل القرابت) هم وی، د هغه ځايه دی د باندی وشړی، ځکه چه د دوی له وجوده د مساجد الله ودانی نه، بلکه ورانی ده.

أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَجَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۚ لَا يَسْتَوُونَ عِندَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿١٩﴾

آیا گڼلی «گرځولی» دی تاسی اوبه ورکول حاجیانو ته او ودانول د مسجد حرام په مثل «د ایمان» د هغه چا چه ایمان «او یقین» لری په الله او «په» ورځی آخری «د قیامت» او جهاد ئی کړی وی په لاره د الله نه دی برابر دوی په نزد د الله او الله نه ښیی سمه صافه لاره قوم ظالمانو ته.

**تفسیر:** د مکی معظمی مشرکانو په دی باندی ډیر افتخار درلود (لرلو) او نازیدل چه مونږ د حاجیانو خدمتونه کوو۔ او دوی ته اوبه او ډودی او کالی (کپړی) ورکوو۔ د مسجد الحرام ترمیم یا د کعبی شریفی د کسوت (پوښ) یا تیل او باتی او د نورو انتظام کوو. که مسلمانان په خپل جهاد، هجرت او نورو باندی نازیږی، نو له مونږ سره د عبادتونو دغه ذخیره شته په یوه زمانه کښی حضرت عباس رضی الله تعالیٰ عنه له حضرت علی کرم الله وجهه سره هم دغه مباحثه په هم دغه شان کړی وه. بلکه په صحیح مسلم کښی راغلی دی چه یو ځلی څو تنو مسلمانانو په خپلو منځو کښی جګړی سره کولی لومړنی وویل چه زماپه خیال له اسلام راوړلو نه وروسته حاجیانو ته د اوبو له ورکولو څخه بل ښه کار نشته دوهم وویل چه زما په نزد له اسلام راوړلو نه وروسته ډیر ښه عمل د مسجد الحرام خدمت دی مثلاً د هغه جارو کول، ډیوی ئی لګول، حاجیانو ته اوبه او ډوډی ورکول او نور دریم وویل چه د خدای په لار کښی جهاد له ګردو (ټولو) عبادتونو او اعمالو څخنی افضل او اشرف دی. حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه په دوی باندی قهر شو، او وئی ویل چه تاسی چه د جمعی د لمانځه دپاره راغلی یئ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم منبر ته نژدی ناست یئ ولی سره داسی مباحثی کوئ لږ څه صبر وکړئ ـ کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د جمعی له لمانځه څخه فارغ شو۔ نو د دغی خبری پوښتنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه وکړئ! د جمعی له لمانځه څخه وروسته کله چه له رسول الله مبارک څخه دغه پوښتنه وشوه. نو دغه آیت نازل شو ﴿ أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ﴾ الآیة ـ یعنی حاجیانو ته اوبه ورکول او په ظاهری ډول (طریقه) د مسجد الحرام ترمیم او ودانول له ایمان بالله او جهاد فی سبیل الله له هیڅ یو سره نشی برابر کیدی (نو د افضلیت پوښتنه ولی کوئ؟) دلته له جهاد سره د ایمان بالله ذکر یا د دی لامله (له وجی) راغلی دی چه د مشرکانو د فخر او غرور ځواب هم وشی چه په خدای جل جلاله باندی ایمان د ګردو (ټولو) عبادتونو روح دی ـ بی له دی روح څخه حاجیانو ته اوبه ورکول او په اوبو باندی

د تړیو مرول یا د مسجد الحرام خدمت یو بی تاداوه (بنیاده) او بی روحه عمل دی نو دغه بی روحه او بی سا عمل د یوه ژوندی او دائم عمل سره څرنګه برابری کولی شی ﴿ وَمَا يَسْتَوِي الْأَحْيَاءُ وَلَا الْأَمْوَاتُ ﴾ (۲۲ جزء د فاطر ۲۲ آیت ۳ رکوع) او که یواځی د مؤمنانو یو تر بله د اعمالو موازنه کول وی، نو د ایمان بالله ذکر به د جهاد فی سبیل الله د تمهید له پاره وی ـ اصلی مقصود د جهاد او د نورو لویو لویو اعمالو د افضلیت بیان فرمایل دی. د ایمان په ذکر سره ئی تنبیه وفرمایله چه بی له ایمانه د خدای جل جلاله په لار کښی جهاد یا بل کوم عمل هیڅ ګټه (فائده) نه لری او محض لاشی دی د دغو لویو لویو اعمالو (جهاد او هجرت او نورو) ارزښت هم په ایمان بالله پوری اړه (حاجت) لری. او په دغه نکته همغه خلق پوهیږی چه د سلیم فهم خاوندان وی، د ظالمانو (بی ځایه کار کوونکو) فهم دغو حقائقو ته نشی رسیدی.

اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ هَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ۙ اَعْظَمُ دَرَجَةً عِنْدَ اللّٰهِ ؕ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴿۲۰﴾ يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ وَرِضْوَانٍ وَّجَنّٰتٍ لَّهُمْ فِيْهَا نَعِيْمٌ مُّقِيْمٌ ﴿۲۱﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿۲۲﴾

هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی «په ټولو مؤمن به شیانو» او هجرت ئی کړی دی او جهاد ئی کړی دی په لاره د الله کښی «د دین د ترقی له پاره» په مالونو خپلو «چه په جهاد کښی ئی لګوی» او په ځانونو خپلو «چه په غزا کښی ئی قربانوی» ډیر لوی دی «له نورو نه» له جهته د درجی په نزد د الله او هم دغه «ستایل شوی» کسان هم دوی دی په مراد رسیدونکی زیری کوی په دوی رب د دوی په رحمت سره له جانبه خپله او په رضامندی سره او په جنتونو سره چه وی به دوی ته په دغو «جنتونو» کښی نعمتونه همیشه «دائم بلا انقطاع». حال دا چه همیشه به وی دوی په دغو «جنتونو» کښی تل تر تله بیشکه الله هم ده سره دی اجر «ثواب» ډیر لوی.

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ په دربار کښی د ثوابونو او درجو څه کمی دی؟ هر چا ته چه هر څومره اراده وفرمائی ورکوی ئی ـ په ړومبنی آیت کښی د دریو شیانو ذکر ؤ «۱»: ایمان. «۲»: جهاد. «۳»: هجرت. پر دغو باندی د دریو شیانو بشارت ئی هم مرحمت وفرمایه: «۱» رحمت. «۲»: د خدای رضا. «۳»: په جنت کښی تل پاتی کیدل. ابوحیان رحمة الله علیه لیکی

چه «رحمت» په ایمان مرتب دی هغه ځوک چه ایمان نه لری نو په آخرت کښی د الله تعالیٰ له رحمت او مهربانی څخه بی برخی پاتی کیږی او «رضوان» چه ډیر یو اعلیٰ مقام دی د جهاد فی سبیل الله صله او انعام دی. لکه چه مجاهد فی سبیل الله د نفسانی ګردو (تولو) خوندونو او تعلقانو په ترک سره د الله تعالیٰ په لاره کښی خپل ځان او مال قربانوی او د الله تعالیٰ د خوښی د حصول له پاره خپله انتهائی قربانی وړاندی کوی نو ښائی چه د هغه صله او انعام هم انتهائی وی، او هغه د الله تعالیٰ جل وعلا شانه د رضا مقام دی پاتی شو «هجرت» چه هغه د الله جل جلاله له پاره د کور کورنی او وطن د پریښودلو نوم دی، نو ځکه مهاجر ته زیری ورکړی شوی دی چه ستا له وطنه ډیر ښه وطن او ستا له کوره ډیر ښه کور درکول کیږی چه پکښی همیشه اعلیٰ درجه هوساینه (آرام) او راحت وی او تل به پکښی اوسیږی او له هغه څخه به بیا هجرت کولو ته له سره نه مجبوریږی.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوٓا۟ ءَابَآءَكُمْ وَإِخْوَٰنَكُمْ أَوْلِيَآءَ إِنِ ٱسْتَحَبُّوا۟ ٱلْكُفْرَ عَلَى ٱلْإِيمَٰنِ ۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٢٣﴾

---

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی یعنی «ای مؤمنانو!» مه نیسئ تاسی پلرونه خپل او ورونه خپل دوستان که محبوب ګڼانه دوی کفر پر ایمان او هر چا چه دوستی وکړه له دغو «کفارو» سره له تاسی نو دغه کسان هم دوی دی ظالمان.

---

**تفسیر:** په پخوانی آیت کښی ئی دا راښوولی وو چه جهاد او هجرت له ډیرو لویو او افضلو اعمالو څخه دی. او ډیر ځله په دغو دواړو اعمالو کښی د اقاربو او خپلوانو او کورونو او کهولونو او د ورورګلوی تعلقات خللونه واقع کوی. نو ځکه ئی وفرمایل «هغو کسانو ته چه له ایمان څخه کفر ډیر عزیز وی، یو مؤمن به هغوی څرنګه خپل عزیزان ګڼی؟» د مسلمان له شان سره دغه کار مناسب نه دی چه له هغو سره د رفاقت او دوستی خیال ولری، په تیره بیا چه داسی تعلقات سری له جهاد او هجرت څخه هم ستون کړی ـ نو دغسی سری خپل ځان ګنهګاروی او په خپل ځان په خپله ظلم کوی.

قُلْ إِنْ كَانَ اٰبَآؤُكُمْ وَاَبْنَآؤُكُمْ وَاِخْوَانُكُمْ وَاَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيْرَتُكُمْ وَاَمْوَالُ ِۨاقْتَرَفْتُمُوْهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ اَحَبَّ اِلَيْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَجِهَادٍ فِيْ سَبِيْلِهٖ فَتَرَبَّصُوْا حَتّٰى يَاْتِيَ اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۲۴﴾

ووایه «ای محمده ! عذر ویونکو ته د هجرت له ترکه» که وی پلرونه ستاسی او ځامن ستاسی او ورونه ستاسی او ښځی ستاسی او خپلوان ستاسی او هغه مالونه چه ګټلی دی تاسی هغه او «هغه» تجارت «سوداګری» چه ویریږئ تاسی د ناچلیدلو د هغی او هغه ځایونه د هستوګنی چه خوښوئ تاسی هغه ډیر محبوب تاسی ته له الله نه او له رسول د الله نه او له جهاده په لاره د الله کښی «له پاره د ترقی د دین» نو انتظار کوئ تاسی تر هغه پوری چه راولی «راولیږی» الله امر «حکم د عذاب» خپل او الله نه ښیی سمه صافه لاره قوم فاسقانو ته.

**تفسیر:** یعنی که د الله تعالیٰ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د احکامو په اطاعت او د هجرت او جهاد په کولو کښی دغه خیال مانع وی چه کور او کهول مو پاتی کیږی، مالونه مو ضایع کیږی، تجارت مو کوته یا بندیږی ـ د آرام لرونکو ځایونو ځنی به ووځو او په بی راحته او نا آرامو ځایونو کښی به اوسیږو. نو بیا د الله تعالیٰ له لوری د هغی سزا د حکم انتظار وکړئ چه پر داسی لټانو او دنیا طلبانو باندی راتلونکی دی ـ هغه کسان چه د مشرکانو په موالاتو او دوستیو یا په دنیوی غوښتنو کښی اخته شوی وی او د الٰهی احکامو تعمیل نه کوی، هغوی ته د حقیقی بری او کامیابی لار نه ښودله کیږی. په حدیث کښی راغلی دی «کله چه تاسی د غوائی په لکئ پسی روان شئ او غوبیی له لکئ ځخه ونیسئ او یواځی په کښت (فصل) او کر باندی راضی شئ ـ او له جهاده غافل شئ ـ نو پاک الله به پر تاسی داسی یو ذلت مسلط کړی چه له هغه ځخه به له سره نشئ بچ کیدی ـ تر هغه پوری چه بیا د دین «یعنی فی سبیل الله جهاد» په لوری بیرته وګرځئ!

لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ فِيْ مَوَاطِنَ كَثِيْرَةٍ ۙ وَّيَوْمَ حُنَيْنٍ ۙ اِذْ اَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ

فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْئًا وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْأَرْضُ بِمَا
رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُم مُّدْبِرِينَ ۝٢٥ ثُمَّ أَنزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ
عَلَىٰ رَسُولِهِ وَعَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَأَنزَلَ جُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا
وَعَذَّبَ الَّذِينَ كَفَرُوا ۚ وَذَٰلِكَ جَزَاءُ الْكَافِرِينَ ۝٢٦

خامخا په تحقیق مدد کړی دی له تاسی سره الله په ځایونو ډیرو کښی او «خصوصاً» په ورځ د حنین کښی کله چه تعجب کښی واچولئ ډیر والی ستاسی نو د فع نه کړ «ډیر والی» له تاسی څخنی هیڅ شی «له حملی د دښمن نه» او تنګه شوه «له ویری» پر تاسو باندی ځمکه سره د ارتوالی د دی بیا شا کړه تاسی «دښمن ته» حال دا چه شا ګرځوونکی «تښتیدونکی» وئ بیا راولیږه الله تسکین خپل «چه د مؤمنانو د زړونو د آرامی سبب شی» پر رسول خپل «چه یواځی د غزا په ډګر ولاړ ؤ» او پر مؤمنانو «چه بیرته وګرځیدل غزا ته» او راولیږلی «الله» لښکری «د ملائکو» چه نه وی لیدلی تاسی دا لښکری او په عذاب ئی کړل هغه کسان چه کافران شوی ؤ او هم دا (تعذیب) سزا ده د کافرانو.

**تفسیر:** په پخوانی آیت کښی تنبیه شوی ده چه د «جهاد فی سبیل الله» په وخت کښی مؤمنانو ته نه ښائی چه د کور ـ کورنی ـ ورورئ ـ مالونو ـ ملکونو او نورو شیانو څه خیال او پروا وکړی دلته خبرداری ورکوی چه مجاهدینو ته دا هم نه ښائی چه په خپل لښکری جمعیت او کثرت باندی غرور او تکبر وکړی، ځکه چه نصرت او بری یواځی د الله تعالیٰ په مرسته (امداد) او مدد پوری تړلی دی چه دغسی تجربه تاسی پخوا له دی نه په څو څو نورو میدانونو کښی هم کړی ده ـ هغه نتائج چه په بدر، قریظه، نضیر، حدیبیه او نورو کښی ستاسی په برخه شوی دی هغه او نور امداد چه ځینو مفسرینو تر اتیا ځایو پوری شمیرلی دی هغه ګرد (تول) تش د الٰهی امداد او د غیبی تائید محصول ؤ ـ او اوس په آخره کښی د «حنین» د غزا واقعه خو داسی یوه صریحه عجیبه او غریبه د آسمانی نصرت او امداد نښه ده چه پر هغی سختو معاندو دښمنانو هم اقرار کړی دی.
د مکی معظمی له فتحی څخه وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم ته خبر راورسید چه د هوازن او ثقیف او نورو عربی قبائلو یو جرار او قوی لښکر سره تول او تیار کړی دی، او غواړی چه په ډیره دبدبه او زور سره پر مسلمانانو حمله وکړی ـ نو سم د لاسه له مهاجرینو او انصارو څخه

همغه لس زرى زورور لښكر چه د مكې معظمې د فتحې له پاره له مدينې منورې څخه راغلى ؤ، د «طائف» په لورى ور روان شو هغه دوه زره طلقاء «آزاد شوى» چه د مكې معظمې د فتحې په وخت كښې مسلمانان شوى ؤ، هم له دوى سره مله وو ـ دغه اول ځل دى چه دولس زره مجهز عظيم الشان اسلامى لښكر د جهاد د ميدان لورى ته (رهى) كيږى ـ د دى منظرى د ليدلو څخه ځينو صحابه ؤ خپل ځان د دى خبرى د ويلو څخه ونشو ساتلى، او په ښكاره ئى وويل «كله به چه مونږ دير لږ وو نو په هغه وخت كښې به تل بريالى (كامياب) وو، نن چه مونږ دومره ډير يو نو هيڅوك مونږ ته ماتى نشى راكولى.» د ميرنيو (بهادرانو) موحدينو له خولې څخه د دغو جملې وتل د پاك خداى په دربار كښې ناوړه واقع شول دوى لا د مكې معظمې څخه دومره لرى نه وو تللى چه دواړه لښكرى سره مخامخ شوى چې د مخالفى ډلى لښكر څلور زره تنه وو چه خپل كفنونه ئى پر سر تړلى وو او له خپلو ښځو او كوچنيانو (ماشومانو) سره د جنګ ميدان ته چمتو (تيار) او حاضر شول او د يوه فيصله كوونكى جنګ له پاره بيخى تيار او منتظر وو او له اوښانو ـ آسونو ـ مواشيو ـ او د خپلو كورونو ګرد (تول) پند پند مالونو او اسبابونو سره د جګړى ډګر ته وتلى وو. د «هوازن» قبيلى د غشو ويشتلو په فن كښې په ګرد (تول) عربستان كښې شهرت درلود (لرلو)، د دوى ډيرو ماهرو او غښتلو غشو ويشتونكو د «حنين» د وادى په لښكرو او مورچلو كښې ډير تينګ، تينګ ځايونه نيولى او په كښې پټ ناست وو.

په صحيحينو كښې د «براء ابن عازب» روايت دى چه په ړومبنى معركه او جنګ كښې كفارو ماتى وكړه او ډير زيات مال، اسباب او سامان ورڅخه پاتى شو، او دوى ترى وتښتيدل دلته مسلمانان مجاهدين غنيمت او ولجى ته متوجه شول، په دغه ترڅ كښې د هوازن غشو ويشتونكو څارونكو له مورچلو څخه په سختو غشو ويشتلو باندى لاسونه پورى كړل او په مسلمانانو پسى ووتل او سخته غلبله او شور ماشور جوړ شو او په يوه شيبه كښې له څلورو خواؤ لكه ږلى غونډى د غشو اوريدل شروع شول خبره تر دى حده پورى ورسيده چه مسلمانانو ته هلته دريدل او پښه تينګول مشكل شول، ړومبى «طلقاء» وتښتيدل ـ وروسته له هغه د نورو پښى هم ولړزيدلى او وښوئيدلى ـ او ځمكه له ارتوالى سره په دوى تنګه شوه، چه په هيڅ يوه ځاى كښې دوى ته د پناه ځاى نه پيدا كيده محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم له څو تنو اصحابو سره د دښمنانو تر محاصرى لاندى راغلل، حضرت ابوبكر، عمر، عباس، علي، عبدالله بن مسعود او نور اصحابان رضى الله تعالىٰ عنهم نژدى اتيا يا سل تنه، بلكه د «اصحاب السير» له تصريح سره سم تول لس تنه پاك ذوات «عشره مبشره كامله» د جنګ په ميدان كښې پاتى شول ـ چه دوى ګرد (تول) د غره په شان تينګ او ثابت ښكاريدل ـ دغه يوه خاصه موقع وه چه دنيا زمونږ د پاك رسول الله صلى الله عليه وسلم د معجز او محير العقول توكل، صداقت، شجاعت او ديانت نظاره وكړه او د محمدى نبوت د ثبات او استقامت مؤثره ننداره ئى په خپلو ستركو وليدله.

محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم په يوه سپين قچر سور ؤ چه د هغه يو ركاب حضرت عباس او بل ركاب حضرت ابو سفيان بن الحارث تينګ نيولى ؤـ د كفارو دغه څلور زره لښكر د

انتقام اخیستلو له پاره په پوره جوش مخ په یرغل او برید دی له څلورو خواو څخه د غشو باران وریږی ـ اسلامی لښکر بیخی خور، وور او تیت پیت (منتشر) شوی دی ـ مگر یواځی له محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یو رفیق اعلیٰ شته. د ربانی تائید او آسمانی داد غیر مرئی باران پر دوی پر څو تنو غوره اصحابو اوری چه د هغه اثر بالاخر تر تښتیدونکو پوری رسیږی، له هغه لوری چه د «هوازن» او «ثقیف» سیلاو مخ په وړاندی بهیږی، په هغه لوری د محمدی سورلی مخ دی او در گرده (توله) په هغه طرف روانه او پرله پسی خپل قچر په مهمیز سره وهی په زړه کښی ئی د الهٰی محبت شغلی بلی دی ـ او په ژبه ئی په نهایت استغناء او اطمینان سره د «اناالنبی لا کذب اناابن عبدالمطلب» وینا جاری ده. یعنی بیشکه زه په رښتیا سره رسول او د عبدالمطلب له اولادی څخه یم ـ

په هم دغه حالت کښی دوی خپلو اصحابو ته ناری کری «الی عباد الله الی انا رسول الله ـ ای د الله تعالیٰ بندگانو ماته راشئ! او زما په لوری رادرومئ چه زه د الله تعالیٰ رسول یم.»

بیا زمونږ د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له هدایت سره سم حضرت عباس رضی الله تعالیٰ عنه چه د ډیر لوړ غږ خاوند ؤ «اصحاب السمرة» ته ورناری کری چه هغوی تر ونی لاندی د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر لاس د جهاد بیعت کری ؤ د مجاهدینو غوږونو ته د دی غږ په رسیدو سره سم دوی د خپلو سورلیو مخونه د جنگ د میدان په لوری وگرځول د هر سری اوښ چه بیرته گرځیدلو کښی لږ څه معطلی یا ډیل کاوه نو دی به سم د لاسه خپلی وسلی سره د اوښ له شا څخه کوزیده او خپله سورلی او کالی (سامان) به ئی هملته خوشی پریښودل او ځان به ئی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته رساوه.

په دغه وخت کښی رسول الله مبارک لږ څه خاوری او شگی په لاس کښی واخیستی او د کفارو د لښکرو په لوری ئی ورو‌شیندلی چه هغه د الله تعالیٰ په قدرت د هر کافر په مخ او سترگو کښی ولویدی ـ له بل لوری الله تعالیٰ له آسمانه پرښتی ور ولیږلی چه په غیر مرئی دول (طریقه) سره د هغوی نزول د مسلمانانو د تقویت او همت زیاتولو او د کفارو د ویری او مرعوبیت سبب شو بیا نو څه وشو؟ کفارو د هغو شگو له اثره خپلی سترگی مښلی او هغه مسلمانان چه دوی ته ورنژدی وو، مخ په بیرته پر هغوی ئی حمله ور وړه او آناً فآناً مطلع صافه شوه، او ډیر تښتیدلی لښکر بیرته ستانه (واپس) او د پاک رسول صلی الله علیه وسلم په حضور کښی ورحاضر شول ـ او وی کتل چه جنگ پای ته رسیدلی او بری د مسلمانانو په برخه شوی دی! ـ او په زرهاو بندیان د پاک رسول په مخ کښی ترلی ولاړ دی او د غنیمت او ولجو ډیر مالونه د دوی په شاوخوا کښی پراته دی ﴿فَسُبۡحَٰنَ ٱلَّذِي بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيۡءٖ﴾ په دی دول (طریقه) سره کفارو ته په دنیا کښی سزا ورکره شوه.

---

ثُمَّ يَتُوبُ ٱللَّهُ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ عَلَىٰ مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٢٧﴾

او بیا به رجوع وکړی الله «د توبې په قبول» پس له دی «د حنین له جنګه» پر هغه چا چه اراده وفرمائی«د رجوع» او الله ډیر ښښونکی (د خطیئاتو) ښه رحم والا دی «په انعام د اجر او ثواب سره»

تفسیر: لکه چه هوازن او نورو ته وروسته له دی نه توبه وربه برخه شوه او زیاتره مسلمانان شول.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡمُشۡرِكُونَ نَجَسٞ فَلَا يَقۡرَبُواْ ٱلۡمَسۡجِدَ ٱلۡحَرَامَ بَعۡدَ عَامِهِمۡ هَٰذَاۚ وَإِنۡ خِفۡتُمۡ عَيۡلَةٗ فَسَوۡفَ يُغۡنِيكُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦٓ إِن شَآءَۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ﴿٢٨﴾

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی «یعنی ای مؤمنانو!» بیشکه هم دا خبره ده چه مشرکان نجس «پلیت» دی نو نه دی نژدی کیږی دوی مسجد حرام ته وروسته له کاله د دوی چه دغه «۹ کال د هجرت دی»، او که ویریږئ تاسی له فقره په «سبب د منع د دوی» نو ژر به غنیان کړی تاسی الله له فضله خپله که اراده وفرمائی «د غنا ستاسی»؛ بیشکه چه الله ښه عالم دی «په تولو احوالو» ښه حکمت والا «چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی».

تفسیر: کله چه الله تعالیٰ د شرک زور او قوت مات کړ او د جزیرة العرب مرکز «مکه معظمه» ئی د مسلمانانو په لاس فتحه او د اسلام په قبضه کښی ئی راوستله ـ او عربی قبائلو فوځ، فوځ د اسلام په دائره کښی په ننوتلو شروع وکړه، نو د هجرت په نهم کال کښی اعلان وشو چه وروسته له دی نه دی هیڅ یو مشرک یا کافر په مسجد حرام کښی نه داخلیږی، بلکه هغه ته نژدی یعنی د حرم حدودو ته دی هم نه راځی! ځکه چه د هغوی زړونه د شرک او کفر له نجاسته دومره پلیت او ګنده شوی دی چه حق نه لری دغه مقدس مقام او د توحید او ایمان مرکز ته داخل شی برسیره په دی له صحیحو احادیثو ځنی هم ثابته ده چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د جزیرة العرب ځنی د ګردو (تولو) مشرکینو او یهودانو او نصرانیانو د ایستلو حکم ورکړی دی. لکه چه زمونږ د پاک نبی له وروستنی وصیت سره سم د حضرت عمر فاروق رضی الله تعالیٰ عنه په خلافت کښی دغه حکم عملاً نافذ شو اوس مسلمانانو ته روا نه دی چه په دی راضی شی چه کفار د عربو په خاوره کښی د استیلاء یاد توطن په دول (طریقه) پاتی شی بلکه د جزیرة العرب تطهیر د توان په اندازه د مسلمانانو فریضه ده، هو! زمونږ د حنفیانو په نزد که کوم کافر د

امام په اجازه د مسافرۍ په ډول (طریقه) په عارضي صورت د حرم مځکې ته لاړ شي نو تللی شي په دې شرط چه امام دا اجازه خلاف المصلحت ونه ګڼي باقي د حج او د عمرې په قصد د هیڅ یو کافر داخلیدل نه دي جائز، کما ورد في الحديث «الا لايحجن بعد العام مشرک».

﴿ وَإِنۡ خِفۡتُمۡ عَيۡلَةٗ ﴾ الآية ـ او که ویریږئ تاسې له فقره په سبب د منع د دوی نو ژر به غنیان کړي تاسې الله جل جلاله له فضله خپله که اراده وفرمائي د غنا ستاسې بیشکه چه الله ښه عالم دی په ټولو احوالو ښه حکمت والا چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی» حرم شریف ته د مشرکینو د تګ او راتګ له بندیدلو څخه مسلمانانو ته داسې اندیښنه پیدا شوه چه په تجارت او نورو دنیوی چارو کښې به لوی تاوان راورسیږی ـ او هغه شیان چه دغو مشرکینو د تجارت له پاره راوړل، وروسته له دې نه به ئې نه راوړی ـ نو ځکه ئې تسلي وفرمایله چه تاسې له دغو خبرو څخه مه ویریږئ ځکه چه ستاسې غنا یواځې د «رب الاعلیٰ» په مشیت پورې موقوفه ده. که الله تعالیٰ اراده وفرمائي نو په هغه کښې به هیڅ ځنډ (تاخیر) رانشي لکه چه هم داسې هم وشول، الله تعالیٰ ګرد (ټول) مسلمانان کړل او له مختلفو ملکونو څخه د تجارتي مالونو راتلل شروع شول ـ ښه بارانونه واوریدل، چه د هغو لامله (له وجې) حاصلات زیات شول، د فتوحاتو او غنائمو دروازې پرانستل شوې. د کتابیانو او نورو ځنې د جزیې پیسې ورجاري شوې، الغرض الله تعالیٰ له مختلفو لارو د مسلمانانو له پاره د غناء اسباب پیدا کړل. بیشکه چه د الله تعالیٰ هیڅ یو حکم له حکمته خالي نه دی.

قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَلَا بِٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ ٱلۡحَقِّ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ حَتَّىٰ يُعۡطُواْ ٱلۡجِزۡيَةَ عَن يَدٖ وَهُمۡ صَٰغِرُونَ ﴿٢٩﴾

وجنګیږئ تاسې له هغو کسانو سره چه نه راوړی ایمان پر الله او نه په ورځې آخرې باندې «ځکه چه په پاک محمد ئې ایمان نه دی راوړی» او نه حرام ګڼي دوی هغه چه حرام کړی دی الله «په قرآن کښې» او رسول د دغه «الله په حدیثونو کښې» او نه قبلوی دوی دین حق «د اسلام دغه مذکورین» له هغو کسانو نه «دی» چه ورکړی شوی دی دوی ته کتاب «جنګ ورسره کوئ» تر هغه پورې چه ورکړی دوی جزیه له «خپله» لاسه حال دا چه دوی ذلیل وی.

**تفسیر:** کله چه د مشرکانو معامله پاکه او د ملک سطحه لږ څه هواره او مخه صافه شوه نو حکم وشو چه د کتابیانو «یهودو او نصاریٰ ؤ» شوکت او قوت مات کړئ لومړنی مقصد خو دا ؤ چه

د عربستان خاوره د مشرکانو له وجود څخه بیخي پاکه شي لیکن په دغه وخت کښي د یهودو او نصارئ ؤ په حصه کښي دومره خبره لازمه او تر نظر لاندي وه چه دوی د اسلام په مقابل کښي د زور او قوت خاوندان نشي، او د اسلام د خپریدو (خوریدو) او ترقي په لاره کښي خند نشي ـ نو ځکه اجازه ورکړی شوه که دغه کتابیان تر لاس لاندي رعیت پاتي کیږي او جزیه ورکول قبلوي نو هیڅ مضائقه نشته قبول ئي کړئ نو په دغه وخت کښي دي اسلامي حکومت د دوی د ځان او مال ساتنه وکړي ـ که نه د دوی علاج هم همغه دي چه د مشرکانو ؤ «یعني جهاد او قتال» ځکه چه دوی هم لکه چه ښائي په الله او د آخرت په ورځ باندي ایمان نه لري، نه د الله تعالیٰ او نه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د احکامو څه خیال او پروا کوي. محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم خو لا څه چه دوی په رښتیا سره د خپل منلي نبي حضرت عیسٰی علیه السلام په پیریو کښي راغلي ؤ او نه دغه دین مني چه اوس محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپله ځانه سره راوړی دی، بلکه پر هیڅ یو حقاني دین باندي هم قایل نه دي. او په دغه کوښښ کښي لګیا دي چه د الله تعالیٰ لګولي ډیوه رڼا (رنړا) د خولي په پوکولو سره مړه کړي. لکه چه ژر به ئي ذکر وشي که داسي خبیثان نالائقان هم داسي خوشي پریښودل شي نو په ملک کښي د فتني ـ فساد ـ کفر ـ تمرد او بغاوت لمبي پر له پسي پورته کیږي.

---

وَقَالَتِ الْيَهُودُ عُزَيْرٌ ابْنُ اللَّهِ وَقَالَتِ النَّصَارَى الْمَسِيحُ ابْنُ اللَّهِ ذَٰلِكَ قَوْلُهُم بِأَفْوَاهِهِمْ يُضَاهِئُونَ قَوْلَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَبْلُ قَاتَلَهُمُ اللَّهُ أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ۝٣٠

---

او وائي یهودان چه عزیر ځوی د الله دی او وائي نصرانیان چه مسیح ځوی د الله دی دغه چټي (بیکاره) وینا د دوی ده په خولو خپلو سره «چه وائي ئي بي دلیله» مشابه ده «خبره» د دوی له خبرو د هغو کسانو سره چه کافران شوي وو پخوا «له دوی یعني پلرونه د دوی»؛ هلاک دي کړي دوی له الله چه څرنګه ګرځولي شي دوی «له سمي لاري څخه».

---

**تفسیر:** له روایاتو څخه معلومیږي چه په دغه وخت کښي د ځینو یهودانو داسي عقیده وه چه حضرت عزیر علیه السلام د الله تعالیٰ ځوی دی. لیکن دغه عقیده د عامو یهودانو نه وه ـ بلکه په وروستنیو زمانو کښي خو ځینو علماؤ لیکلي دي چه اوس هیڅ یو یهودي پر دغي عقیدي نه دی پاتي که د نبي صلی الله علیه وسلم په عهد کښي د یهودانو کومه فرقه په دي خبري قائله نه وي، نو ضرور به په دغه وخت کښي یهودانو د قرآن د حکایت تکذیب کړی وی ـ لکه چه

د ﴿ إِتَّخَذُوٓاْ أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ له آوریدلو ځنی «عدی بن حاتم» اعتراض کړی ؤ چه «هیڅوک احبار او رهبان رب نه گڼی» چه د هغه ځواب نبی کریم علیه افضل الصلواة والتسلیم داسی ورکړ چه وروسته راځی. یهودو ته د دی عقیدی نسبت کول چه عزیر علیه السلام د خدای ځوی دی او له دی خبری څخه د هغوی د اعتراض او انکار هیچیری نه منقولیدل د دی خبری دلیل دی چه ضرور په هغه وخت کښی د دغسی عقیدی خاوندان موجود وو هو! همغسی چه د زمانی په تیریدو ډیر مذاهب او فرقی محوه شوی او له منځه تللی دی که دغه عقیده هم له منځه تللی وی نو لری خبره نه ده یو ډیر ثقه بزرگ مرحوم حاجی امیر شاه خان ویل چه د «فلسطین» او نورو ځایونو په سیاحت کښی زما ملاقات له داسی یهودانو سره شوی دی چه هغوی ته به ئی د دی رنگ عقائدو په نسبت «عزیری» ویل. والله اعلم.

﴿ يُضَٰهِـُٔونَ قَوۡلَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَبۡلُۚ ﴾ مشابه ده خبره د دوی له خبرو د هغو کسانو سره چه کافران شوی وو پخوا له دوی» یعنی د مسیح د ابنیت «ځویتوب» او الوهیت «خدائی» او نوری عقیدی د پخوانیو مشرکینو «چه د دوی پلرونه وو» له عقیدی سره مشابه دی، بلکه د هغوی په تقلید ئی دغه عقیده غوره کړی ده لکه چه د «٦» جزء د المائدة په «١٦» او «١٧» آیت «٣» رکوع په تفسیر کښی مو نقل کړی دی.

﴿ قَٰتَلَهُمُ ٱللَّهُۖ ﴾ الآیة ـ هلاک دی کړی دوی لره الله یا لعنت د الله دی وی پر دوی چه څرنگه گرځولی شی دوی له لاری سمی څخه یا چه څرنگه چپ کړی شوی دی له لاری د حق نه.» یعنی الله تعالیٰ دی دوی ووژنی او غارت دی کړی «او لعنت دی پری نازل کړی» چه سره د توحید د صافی او زوروری رڼا (رڼرا) د رسیدلو څخه بیا هم دوی د تیارو په لوری ولی درومی؟.

---

إِتَّخَذُوٓاْ أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَٱلۡمَسِيحَ ٱبۡنَ مَرۡيَمَ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُوٓاْ إِلَٰهٗا وَٰحِدٗاۖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ سُبۡحَٰنَهُۥ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴿٣١﴾

---

نیولی دی دغو «کتابیانو» عالمان خپل او عابدان خپل خدایان بی له الله «چه متابعت ئی کوی په تحلیل او تحریم کښی» او مسیح ځوی د مریمی «هم په خدائی نیسی چه د الله ځوی ئی بولی»؛ حال دا چه امر «حکم» نه دی شوی دوی ته «په توریٰت او انجیل کښی» مگر د دی چه عبادت وکړی دوی د معبود یوه، چه نشته هیڅ برحق معبود مگر خو هم دی دی؛ پاکی ده الله لره له هغه شی نه چه شریکوی دوی «هغه د الله سره».

**تفسير:** هره مسئله به چه د دوی علماؤ او مشائخو له خپله ځانه جوړوله، که حلالو ته ئی حرام يا حرامو ته ئی حلالو هم ويل، هغوی به همغه سند ګڼله؛ او داسی خيال به ئی کاوه چه بس هم دغه مونږ د الله تعالیٰ له پوښتنی څخه ژغوری(ساتی)، او د آسمانی کتابونو له قبلولو سره ئی هيڅ علاقه او معامله نه لرله ـ او يوازی د احبارو او رهبانانو پر حکمونو به ئی عمل کاوه ـ او د دغو عالمانو او عابدانو حال او قال، عمل او کار داسی ؤ چه د لږ دنيوی مال د فائدی او د جاه او رتبی په مقابل کښی به ئی شرعی حکمونه بدلول ـ لکه چه له دوو آيتونو څخه وروسته مذکور دی نو د الله تعالیٰ منصب «يعنی د حلالو او حرامو تشريع» ئی علماؤ او مشائخو ته ورکری ؤ. نو په دغه ملحوظ ئی وفرمايل چه دوی خپل عالمان او شيخان خدايان درولی ؤ. نبی کريم عليه افضل الصلوٰة والتسليم د «عدی بن حاتم» د اعتراض د ځواب ورکولو په ضمن کښی هم داسی تشريح فرمائلی وه. او له حضرت حذيفه رضی الله تعالیٰ عنه څخنی هم داسی منقول دی. حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليکی د عالم قول تر هغه پوری عوامو ته سند دی چه د شرعی له مخی خبری کوی کله چه معلومه شی چه هغه عالم له خپله ځانه يا د طمعی يا د نورو شيانو له کبله (وجی) خبری کوی، نو بيا د ده قول سند نه دی.

يُرِيدُونَ أَن يُطْفِـُٔوا۟ نُورَ ٱللَّهِ بِأَفْوَٰهِهِمْ وَيَأْبَى ٱللَّهُ إِلَّآ أَن يُتِمَّ نُورَهُۥ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿٣٢﴾

اراده لری دغه «کتابيان» دا چه مړ کړی نور (رڼرا) شريعت د الله په خولو خپلو او منع راوړی «نه خوښوی» الله مګر دا چه پوره کړی نور «رڼرا» خپله «چه شعلی ئی په هر طرف خوری شی» او اګر که بد ګڼی «دا کار» کافران

**تفسير:** يعنی لکه چه د خالص توحيد او د اسلام د لمر پلوشی راخرګندی شوی دی، بيا نو دغه ګډی وډی خبری او د شرک دعوی چيری پر مخ تلی او خوريدلی شی. دا چه څوک کوښښ کوی چه بی حقيقته او بی معنی خبری جوړی کړی، او د بی ځايه بحثونو او مجادلو په زور د حق نور «رڼا» بی رونقه «تته» کړی داسی مثال لری چه کوم ناپوه سری غواړی د خولی په پوکی د لمر يا د سپوږمی رڼا (رڼرا) مړه يا تته کړی هر څومره که دی وسوځی ـ او خپل ځان نينی، نينی کړی ـ مګر بيا هم د الله د دين نور به پوره دول (طريقه) سره خوريږی ـ او خپلو پلوشو او وړانګو سره نړی روښانوی.

چه رب بل کړی غټ څراغ له ښه تدبيره
چاچه پو کړ ـ نو به سوځی خپله ږيره

او دا ځکه چه د رب څراغ خو نه مري

او چه پو شي نو لنبه شي مستديره.

هُوَ الَّذِيٓ اَرۡسَلَ رَسُوۡلَهٗ بِالۡهُدٰى وَدِيۡنِ الۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهٗ عَلَى الدِّيۡنِ كُلِّهٖ ۙ وَلَوۡ كَرِهَ الۡمُشۡرِكُوۡنَ ﴿۳۳﴾

الله هغه ذات دى چه ليږلى ئى دى رسول خپل «محمد» په هدايت سره «چه قرآن دى» او په دين حق سره «چه اسلام دى» دپاره د دى چه غالب كړى دغه «دين» پر نورو دينونو تولو «اگر كه آسمانى هم وى» او اگر كه بد گڼى «دا كار» مشركان

**تفسير:** پر نورو اديانو د اسلام غلبه د معقوليت، حجت، برهان او دليل په اعتبار ده دغه خو په هره زمانه كښى لله الحمد په ښكاره ډول (طريقه) سره حاصله ده. باقى د حكومت او سلطنت په اعتبار دغه غلبه تر هغه وخته پورى حاصله وه او وى به چه مسلمانان پر اسلامى اصولو باندى په ښه شان عاملان ـ او د ايمان او تقوىٰ پر لاره تينگ او سم روان ـ او په جهاد فى سبيل الله كښى ثابت قدمان وو، او وى، او د حق دين داسى غلبه چه باطل اديان مغلوب، او بيخى ئى د هستى له صفحى څخه محوه كړى، نو دغه د مسيح عليه السلام د نزوله وروسته، چه قيامت نژدى كيږى، كيدونكى دى.

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اِنَّ كَثِيۡرًا مِّنَ الۡاَحۡبَارِ وَالرُّهۡبَانِ لَيَاۡكُلُوۡنَ اَمۡوَالَ النَّاسِ بِالۡبَاطِلِ وَيَصُدُّوۡنَ عَنۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ ؕ

اى هغو كسانو چه ايمان ئى راوړى دى «يعنى اى مؤمنانو!» بيشكه ډير له عالمانو «د يهودانو» او عابدانو «د نصرانيانو» خامخا خورى دوى مالونه د خلقو په باطل «رشوت» سره او منع كوى «خلق» له لارى د الله څخه؛

**تفسير:** يعنى روپى آخلى شرعى احكام او الهٰى اخبار بدلوى او له بل لورى عوام الناس «لكه چه پخوا مو وليكل» دوى ته د الوهيت مرتبه وركوى. او هر څه غلط ملط چه دوى وايى همغه د هغوى په نزد سند دى. هم داسى د دوى علماء او مشائخ هم د نذر او نياز اخيستلو په مقابل

کښي جعلي اسناد او ساختگي روايات او بدي چاري ورښيي ـ او د خپل سيادت او رياست د تينگولو او ساتلو له پاره عوام الناس د مکر او فريب په جال کښي بندوی او له سمي لاري ځني ئي ستنوی(واپس کوی). ځکه که عوام د دوی له جاله ووځي ـ او حق دين اختيار کړی، نو پر دوی گردي (تولي) گټي دړيږی. دغه حال مسلمانانو ته آوراوه شي چه مسلمانان هوښيار او خبردار شي، چه د امتونو او د اقوامو د خرابي او تباهي ډير لوی سبب د دريو جماعتونو خرابي او گمراهي او د خپلو فرائضو پر يښودل دی «۱»: علماء «۲»: مشايخ. «۳»: اغنياء ـ رؤساء له دوی ځني د دوو ډلو ذکر پخوا له دی نه تير شو د دريم جماعت «رؤساؤ» ذکر وروسته راځي. ابن المبارک ځومره ښه ويلي دی. «وهل افسدالدين الاالملوک واحبار سوء ورهبانها».

---

وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿۳۴﴾

---

او هغه کسان چه خزانه کوی سره زر او سپين زر او نه لگوی هغه په لاره د الله کښي «د دين د ترقي له پاره» نو زيری ورکړه دوی ته په عذاب دردناک سره؛

---

**تفسير:** هغه خلق چه دولت او ثروت تولوی ـ اگر که په حلاله طريقه سره هم وی خو د الله تعالیٰ په لاره کښي ئي نه صرفوی. «مثلاً زکات نه ورکوی ـ واجبه حقوق تری نه باسی» د دوی سزا دغه ده. نو د دی له مخی د هغو احبارو او رهبانانو انجام معلوم کړئ چه حق به ئي پټاوه يا حق به ئي بدلاوه، او بالمقابل به ئي گټي کولي او بدی به ئي خوړی او د خپل رياست د قيام د حرص او طمعی له پاره به ئي عوام الناس د الله تعالیٰ له لاری څخه ستنول(واپس کول). په هر حال ښه دولت هغه دی چه د آخرت وبال او د ځان جنجال نشي.

---

يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ ۖ هَٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنْفُسِكُمْ فَذُوقُوا مَا كُنْتُمْ تَكْنِزُونَ ﴿۳۵﴾

---

په هغي ورځي چه سختي سری به کړی شي دغه خزانی په اور د جهنم «دوزخ» کښي نو داغلي به شي په هغه سره وچولي (تندی) د دوی او اړخونه د دوی او شاگاني د دوی «او ويلي به شي ورته» دا هغه شي دی چه خزانه

کړی وه تاسی دپاره د نفسونو «ځانونو» خپلو نو وڅکئ تاسی «خوند د سزا د» هغه «مال» چه وئ تاسی چه خزانه کاوه به مو «په دنیا کښی اوس درته بلا شوه په عقبا کښی».

تفسیر: کله چه بخیل دولتمن ته د الله جل جلاله په لاره کښی د مال د لګولو په نسبت څه وویل شی نو د ده په وچولی (تندی) کښی ګونځی پیدا کیږی، او که دیر ورته ووائی نو اعراض کوی او مخ تری آړوی او خپل اړخ ورګرځوی او که په دغه سره هم خلاص نشو نو خپله شا ورګرځوی او خپله مخه نیسی او ځی ـ نو ځکه سپین او سره زر «طلا او نقره» سره کوی «تودوی» او د ده هم دغه دری ځایونه «وچولی(تندی) ، اړخ ، شا» پری داغوی چه په دی وسیلی سره د خپل د هغه تول کړی مال خوند او مزه په ښه شان سره وڅکی ـ او خپله سزا په ښه شان سره ومومی.

إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِندَ اللَّهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي كِتَابِ اللَّهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ۚ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ ۚ فَلَا تَظْلِمُوا فِيهِنَّ أَنفُسَكُمْ ۚ وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَافَّةً كَمَا يُقَاتِلُونَكُمْ كَافَّةً ۚ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ ﴿٣٦﴾

بیشکه چه مقدار «شمار» د میاشتو «چه معتبر دی» په نزد د الله کښی دوولس میاشتی دی په کتاب د الله «لوح محفوظ» کښی هغه ورځ «وخت» چه پیدا کړی ئی دی آسمانونه او ځمکه د هغو «له جملی» ځنی څلور میاشتی محرمی دی؛ دغه «حساب یا تحریم» دین دی سم. نو مه کوئ ظلم په دغو کښی په ځانونو خپلو «په کولو د ګناه» او جنګونه کوئ تاسی «ای مؤمنانو» له مشرکانو سره تول «له ټرمی (سیلمی) او په هر حال کښی» لکه چه جنګونه کوی دوی له تاسی سره تول له ټرمی(سیلمی)؛ او پوه شئ چه بیشکه الله سره له پرهیزګارانو دی «په ساتنه، مرسته (مدد) او ثواب ورکولو سره».

تفسیر: زما په فکر د دی مضمون سلسله له پاسه داسی راغلی ده چه په تیره رکوع کښی ئی د مشرکینو څخه وروسته د کتابیانو «یهودانو او نصرانیانو» سره د جهاد کولو حکم ورکړی ؤ بیا

په دی رکوع کښې ئې راښوده چه د دوی عقائد او طور او طریقه هم مشرکینو ته ورته ده، ځکه چه هغوی عزیر علیه السلام او میسح علیه السلام ته ابن الله وائی لکه چه مشرکین «ملا ئکة الله» ته د الله تعالیٰ لونی وائی ـ بلکه په نصاریٰ ؤ کښې د مسیح علیه السلام د «ابنیت ـ ځویتوب» عقیده د مشرکانو په تقلید پیدا شوی ده مشرکان بتانو ته د خدائی درجه ورکوی نصرانیان مسیح او روح القدس په خدائی منلی دی ـ او د کتابیت له دعوی سره احبارو او رهبانانو د الهیٰ شریعت د احکامو تغییر او تبدیل جائز کری دی یعنی احبار او رهبانان رشوت «بډی» آخلی ـ او حرام اموال خوری، او بالمقابل ځینی حرام شیان حلالوی او حلالوی شیان حراموی او د آسمانی احکامو په ځای ئی قبلوی، د دوی دغه طریقه بیخی د مشرکینو طریقی ته ورته ده چه د مشرکینو مشرانو به هم هر څه چه غوښتل هغه به ئی حلالوی یا حرام ګرځول او د دغه حل او حرمت نسبت به ئی رب العزت ته کاوه چه د هغه ذکر په «۸» جزء د الانعام په ۱۳۷ او ۱۳۸ آیت ۱٦ رکوع کښې مفصل تیر شوی دی ـ او دلته هم د هغه یو مثال بیانیږی په عربو کښې له قدیمه دغه دود او دستور جاری دی چه د کال د دولسو میاشتو ځنی په څلورو میاشتو کښې وینی تویول، جدال او قتال قطعاً بندیږی چه دغو ته به ئی «اشهرالحرم ـ محرم الحرام او رجب المرجب وی» چه په هغو کښې به ئی د حج او عمری او تجارتی کاروانو له پاره په امن او امان ـ آزادی او اطمینان سره سفر کاوه ـ هیڅ یو سری به په دغو میاشتو کښې د خپل پلار په قاتل باندی به هم تعرض نه کاوه، بلکه ځینو عالمانو لیکلی دی چه اصلاً په ابراهیمی ملت کښې دغه څلور میاشتی «اشهر الحرم» مقرری شوی وی. له اسلامه یو څه موده مخکښې کله چه د عربو وحشت او جهالت له حده تیر شوی ؤ ـ او یو تر بله په جدال او قتال کښې مشغول وو ـ او د ځینو قبائلو د وحشت او سبعیت او د انتقام جذبات د هیڅ یوه آسمانی یا مځکنی قانون تابع نه وو، نو د «نسیء» رسم ئی وایسته ـ یعنی څه وخت به چه کومی زوروری قبیلی په اشهرالحرم کښې د قتال اراده لرله، نو د هغی مشر به داسی اعلان کاوه چه سږکال مونږ دغه «محرم» له «اشهرالحرم» څخه راباسو، او د هغه په ځای د «صفری» میاشت حرام ګرځوو ـ او په بل کال کښې به ئی ویل چه سږکال لکه پخوا مونږ «محرم» حرام، «او صفره» حلاله ګڼو او په دغه ډول (طریقه) به ئی په هر کال کښې د څلورو میاشتو شمیر پوره کاوه، لیکن د هغو په تعیین کښې به ئی له خپلی غوښتنی سره سم تغییر او تبدیل کاوه. د ابن کثیر رحمة الله علیه له تحقیقه سره سم د «نسیء ـ د میاشتو د وړاندی وروسته کولو» رسم یواځی په «محرم» او په «صفره» کښې کیده ـ او د هغه صورت همغه ؤ چه پاس ذکر شو. امام مغازی محمد بن اسحٰق رحمة الله علیه لیکلی دی هغه ړومبی سری چه دغه رسم ئی جاری کری دی «قلمس» کنانی ؤ. بیا دغه رسم د ده په اولاده کښې نسلاً بعد نسل جاری شو، په آخر کښې د ده له نسله د «کنانی له قبیلی څخه د ابو ثمامه جناده بن عوف» دا عادت ؤ چه په هر کال کښې به ئی د حج په موسم کښې اعلان کاوه چه سږ کال به «محرم» او «صفره» کله حلاله او کله حرامه کیدله او په عمومی ډول (طریقه) به خلقو هغه مانه ګواکی د جاهلیت په زمانه کښې د کافرانو

د کفر او گمراهی د زیاتوالی سبب یو دا هم ؤ، چه د الله تعالیٰ د حلالو او حرامو کړو میاشتو د بدلولو حق د «کنانی» یوه سردار ته ورسپارل شوی ؤ. کتمت (هوبهو) هم داسی د یهودانو او نصرانیانو حال ؤ چه هغوی د حل او حرمت واک طمع کوونکو او غرض لرونکو احبارو او رهبانانو ته ورکړی ؤ، دلته د نسیء د رسم ذکر د دی له پاره راغلی دی چه د دغو دواړو دلو په مینځ کښی مشابهت وښئی او ﴿إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِندَ اللَّهِ﴾ الآية - د دغه درد تمهید دی. یعنی له نن ورځی څخه نه بلکه له هغه وخته راهیسی چه الله تعالیٰ آسمان او ځمکه پیدا کړی ده، د الله تعالیٰ له جانبه د ډیرو شرعی احکامو د جاری کولو په غرض د هر کال له پاره دولس میاشتی مقرری شوی دی چه په هغو کښی څلور میاشتی «اشهرالحرم - د ادب میاشتی» دی، او په هغو کښی له گناه او ظلم څخه د ځان ساتلو زیات فکر او ډیر اهتمام په کار دی او هم دغه د ابراهیم علیه السلام سم دین دی.

﴿فَلَا تَظْلِمُوا فِيهِنَّ أَنفُسَكُمْ ۚ وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَافَّةً﴾ الآية - نو مه کوئ تاسی ظلم په دغو کښی پر نفسونو ځانونو خپلو په کولو د گناه او جنگونه کوئ تاسی ای مؤمنانو له مشرکانو سره تول له څرمی (سیلمی) او په هر حال کښی الخ» حضرت شاه صاحب لیکلی چه له دی آیت څخنی دغه مسئله څرگندیږی چه له کافرانو سره هر وخت جنگیدل روا دی، «لکه چه د «تبوک» غزا چه ذکر ئی وروسته راځی د رجب المرجب په میاشت کښی شوی ده.» او یو له بل سره ظلم او تیری کول د تل له پاره گناه ده - او په دغو میاشتو کښی لا زیاته گناه لری، د زیاترو علماؤ هم دغه رایه ده لیکن بهتره خو دا ده که کافر د دغو میاشتو ادب وکړی، نو ښائی چه مونږ هم له هغه سره لومړی په جنگ پیل (شروع) ونه کړو.

---

إِنَّمَا النَّسِيءُ زِيَادَةٌ فِي الْكُفْرِ ۖ يُضَلُّ بِهِ الَّذِينَ كَفَرُوا يُحِلُّونَهُ عَامًا وَيُحَرِّمُونَهُ عَامًا لِّيُوَاطِئُوا عِدَّةَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ فَيُحِلُّوا مَا حَرَّمَ اللَّهُ ۚ زُيِّنَ لَهُمْ سُوءُ أَعْمَالِهِمْ ۗ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ ﴿٣٧﴾

---

بیشکه چه دغه تاخیر «د حرمت د یوی میاشتی بلی میاشتی ته» ډیروالی دی په «زمانه د» کفر کښی چه گمراه کاوه شی په دی «عمل» سره هغه کسان چه کافران شوی دی حلالوی دوی دغه «حرامه میاشت» یو کال «پکښی جنگ کوی» او حراموی دوی «پریږدی په حرمت» دغه «حرامه میاشت» بل کال «او دغه د نسیء عمل کوی» له پاره د دی چه پوره کړی دوی شمار د هغو میاشتو چه حرامی کړی دی الله نو حلالوی «په زعم او عمل خپل» هغه میاشتی چه حرامی کړی دی الله ښائسته کړی شوی دی دوی ته ناکاره عملونه

د دوی او الله نه ښیي سمه صافه لاره قوم کافرانو ته

**تفسیر:** یعني کافران خراب کار ښه ګڼي کله چه د دوی پوهه منقلبه او چپه شي نو د نیکی سمه صافه لاره به له کومه وموومي؟ په دغه آیت کښی د «نسيء» د رسم ذکر چه راغلی دی د هغه تفصیل په هغه تفسیر کښی ولیکل شو چه د ﴿ ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ ﴾ تر آیت لاندی شوی دی.
**تنبیه:** هغه اقوام چه د خپلو میاشتو د حساب د سمولو او درست کولو له پاره د «کبیسی» ورځی په هر څلورم کال کښی زیاتوی هغه په «نسيء» کښی نه دی داخل. د اسلافو ځینو اکابرو څخه د «نسيء» په نسبت داسی منقول دی چه عربو به په جاهلیت کښی د کال د میاشتو عددونه بدلول ـ مثلاً له دولسو میاشتو څخه به ئی څوارلس میاشتی جوړولی ـ یا به ئی په حساب کښی داسی بی انتظامی پیښوله چه له ذی القعدی څخه به ذوالحجه جوړیده تر دی چه د هجری د نهم کال حج پخپله حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه هم «چه امیر الحاج ؤ او حضرت ابی الحسین علی کرم الله وجهه هم د براءة د احکام د اورولو له پاره دوی پسی لاړل» د هم دی جاهلیت په حساب د ذی القعدة الحرام په میاشت کښی اداء کړ او د «ان الزمان قد استدار کهیئته ـ الحدیث» تقریر هم سم له هم دغه اصول سره کړی شوی دی. پر دغو ګردو (تولو) شیانو حافظ ابن کثیر رحمة الله علیه تعقیب کړی دی. من شاء فلیراجعه. دلته د تفصیل ځای نشته که د قرآن کریم د مستقل تفسیر د لیکلو توفیق را په برخه شو. لکه چه اراده می ده نو هلته به پری مفصلی خبری وشی.

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَا لَكُمْ اِذَا قِيْلَ لَكُمُ انْفِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اثَّاقَلْتُمْ اِلَى الْاَرْضِ ؕ اَرَضِيْتُمْ بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا مِنَ الْاٰخِرَةِ ۚ فَمَا مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا قَلِيْلٌ ﴿۳۸﴾

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی «یعنی ای مؤمنانو!» څه باعث دی په تاسی کله چه وویل شی تاسی ته چه ووځئ تاسی په لاره د الله کښی «غزا ته» درانه «او مائل» کیږئ ځمکی ته «او غزا ته نه ځئ» آیا راضی شوی یئ تاسی په دی حیات دنیوی «ژوندون لږ خسیس تیریدونکی» له «نعمتونو» د آخرت نه. او نه دی نفع اخیستل د دی حیات دنیوی «ژوندون لږ خسیس» په «مقابل د نعمتونو د» آخرت کښی مګر لږ «حقیر» دی.

**تفسیر:** له دی ځایه د تبوک د غزا له پاره مؤمنان تشویق، او جهاد ته تیزاوه شی د تیری رکوع

د ۱۰٦۸ مخ کرښی ﴿قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ﴾ الآية - څخه د کتابيانو په مقابل کښی د «جهاد» په لوری ترغيب ورکری شوی ؤ په منځ کښی هغه ضمنی مضامين چه راغلی دی، د هغو ربط موقع په موقع ظاهر کری شوی دی، گواکی هغه گرد (تول) د دغی رکوع تمهيد وو. او دغه حاضره رکوع د «تبوک» د غزا د بيان تمهيد دی.

د مکی معظمی د فتحی او د «حنين» د غزا څخه وروسته د هجرت په نهم کال نبی کريم عليه افضل الصلوٰة والتسليم ته معلومه شوه چه د شام نصرانی باچا د «غسان ملک» د «روم» د قيصر په مرسته (مدد) پر مدينی منوری باندی د تعرض او يرغل (حمله) په فکر کښی دی، نو رسول الله مبارک مناسب وگڼل چه مسلمانان د مخه د هغوی مخه همغلته د «شام» په حدودو کښی ونيسی، او پخوا له دی نه چه دوی اسلامی خاوری ته پښه ورواندی کری د هغوی مدافعه وکری شی، نو ځکه رسول الله مبارک په عمومی دول (طريقه) گردو (تولو) مسلمانانو ته حکم وکړ چه د «جهاد» له پاره تيار شئ! سخته تودوخه او قحطی وه، خرماوی (کجوری) پخيدو ته نژدی شوی وی سيوری دير ښه لگيده، نو په دغسی وخت کښی دومره اوږده مسافه پری کول او نه يواځی د «غسان» له باچا سره، بلکه د روم د قيصر د ډيرو منظمو او مجهزو (تيارو) لښکرو سره د اسلامی مرکز څخه لری، د هغه لوی غليم (دشمن) په خاوره کښی جگړه کول کوم آسان امر او د لوبو کار نه ؤ. په دغسی يو ستر اقدام او لوی مهم کښی پرته (علاوه) له مخلصو مؤمنانو څخه بل څوک د داسی حوصلی خاوند نه ؤ چه په هسی سر جاروونکی اقدام ځغرد (تينگوالی) او بريد (ابتدا) وکری. لکه چه منافقانو د دروغو پلمی (منصوبی) او بهانی جوړولی او خپل ځانونه ئی له جنگ څخه ايستل ځينی مسلمانان هم په داسی سخت وخت کښی له داسی يوه اوږده او سخت سفر څخه په ويره کښی وو، چه له هغو نه زياتو کسانو بالاخر له نورو غازيانو سره ملگرتوب وکړ. او يواځی څو تنه په شمار سری پاتی شول چه سستی او له کار څخه ځان بيرته ايستلو دوی له دغه لوی شرف څخنی بی برخی کړل نبی کريم صلی الله عليه وسلم نژدی له (۳۰۰۰۰) تکره مجاهدينو سره د «شام» د سرحداتو په لوری رهی (روان) شول، او د «تبوک» په مقام کښی ئی سنگرونه ونيول او د «روم» د قيصر په نامه ئی يو مبارک ليک واستاوه او د اسلام په لوری ئی ورته دعوت ورکړ. د رسول الله مبارک مقدس پيغام د قيصر په زړه کښی ځای ونيوه، مگر د قيصر قوم ورسره موافقه ونه کره ـ نو ځکه د اسلام له قبوله محروم پاتی شو. کله چه د شام خلق د رسول الله صلی الله عليه وسلم له دی ارادی څخه خبر شول نو دغه خبره ئی د «روم» قيصر ته ورښکاره کره ـ مگر قيصر له هغوی سره مرسته (مدد) ونه کره نو دغو خلقو د مسلمانانو اطاعت وکړ ـ او اسلام ته ايل (مائل) شول. مگر اسلام ئی رانه ووړ ـ لږ څه وروسته رسول الله مبارک وفات شو او د فاروق اعظم رضی الله تعالیٰ عنه په خلافت کښی د «شام» گرد (تول) ملکونه د مسلمانانو په لاسونو مفتوح او ونيول شول. لکه چه رسول الله صلی الله عليه وسلم د «تبوک» څخه غالب او منصور بيرته تشريف راووړ ـ الله تعالیٰ په تولو لويو لويو سلطنتونو د اسلام د رعب شهرت وغورځاوه ـ او د مدينی منوری منافقان ډير زيات فضيحت او رسوا شول او

هم هغه څو تنه صادقان مسلمانان چه يوائځی د سستی لامله (له وجی) غزا ته نه وو تللی، دير زيات پښيمانه ارمانجن او خفه وو. د دی رکوع له شروع څخه تر ديره ځايه پوری د هم دغو واقعاتو ذکر دی. مګر زياتره د منافقينو د بدو حرکاتو بيان کړی شوی دی په ځينو ځايونو کښی مسلمانانو ته خطاب او د منافقينو احوالو ته اشاره شوی دی.

په دغه آيت کښی مسلمانانو ته دير زيات تشويق، ترغيب، تحضيض ورکړی شوی دی؛ او دا ئی ښکاره کړی ده ـ چه د لږ څه عيش او آرام له پاره جهاد پريښودل ګواکی له لوړی څخه د ژوری په لوری له لويدلو سره مرادف دی د صادق مؤمن په نظر کښی د دنيا عيش او آرام د آخرت په مقابل کښی هيڅ اهميت او وقعت ښائی ونه لری. په حديث کښی راغلی دی که د الله تعالیٰ په نزد د دنيا وقعت د ماشی د وزر په اندازه وی، نو هيڅ يو کافر ته به ئی يو غړپ اوبه هم نه ورکولی.

إِلَّا تَنفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا وَيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيْئًا ۗ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٣٩﴾

که ونه وځئ تاسی «غزا ته او د رسول الله سره لاړ نشئ» نو په عذاب به کړی الله تاسی په عذاب دردناک سره او بدل به راولی «بل» قوم چه غير له تاسی وی او نه به رسوئ ضرر تاسی دغه الله «يا رسول الله» ته د هيڅ شی؛ او الله پر هر شی «چه اراده وفرمائی» ښه قادر دی.

**تفسير:** يعنی د الله تعالیٰ کار پر تاسی نه دی موقوف، که تاسی سستی وکړئ نو الله تعالیٰ به په خپل کامل قدرت سره بل قوم د حق دين د خدمت له پاره ودروی، او تاسی به له دغه سعادت څخه بی برخی پاتی شئ، چه دغه ستاسی زيان دی.

مه پږده ته احسان په چا چه کوم خدمت د ملک ملک پږدی احسان په تا چه کوی خدمت د ملک

إِلَّا تَنصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللَّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُوا ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا ۖ فَأَنزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ

عَلَيْهِ وَأَيَّدَهُ بِجُنُودٍ لَّمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِينَ كَفَرُوا السُّفْلَىٰ ۗ وَكَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا ۗ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٤٠﴾

که ونه کړئ تاسي مرسته (مدد) له دغه «رسول الله» سره «نو الله به ورسره مرسته (مدد) وکړي ځکه چه» پس په تحقيق مرسته (مدد) فرمايلې وه له دغه رسول الله سره الله کله چه راوويست دی «له مکې» هغو کسانو چه کافران شوي وو حال دا چه دی دوهم د دوو ؤ کله چه دوی دواړه په غار کښې وو کله چه ويل «محمد» ملګري خپل «ابوبکر صديق» ته مه خپه کيږه بيشکه چه الله له مونږ سره دی په ساتنه ثواب ورکولو او نصرت کښې؛ نو نازل کړ «راوليږه» الله تسکين «رحمت ډاډينه» خپل په دغه «محمد يا صديق» او تائيد وفرمايه «الله» د رسول الله په «داسي» لښکرو سره چه نه ليدلی تاسو هغوی او وګرځوله الله کلمه د هغو کسانو چه کافران شوي دي «چه شرک يا د کفر دعوت دی» ښکته؛ او کلمه د الله «توحيد او د اسلام دعوت» هم دغه ده لوړه غالبه «هميشه»؛ او الله ښه غالب قوي دی «د احکامو په انفاذ» ښه حکمت والا «چه هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي».

**تفسير:** يعني که فرضاً تاسي نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره مرسته (مدد) ونه کړئ باک نشته، د رسول الله مرسته (مدد) او بري پر تاسي موقوف نه دی. پخوا له دی نه يو داسي وخت هم تير شوی دی چه پرته (علاوه) له يو يارغار څخه بل هيڅوک له ده سره نه ؤ۔ څو تنه نور مسلمانان چه وو دوی هم د مکيانو له ظلمونو څخه په تنګ شوي وو، او هجرت ئې کړی وو. بالاخر په خپله په رسول الله صلی الله عليه وسلم هم د هجرت حکم وشو، د مشرکانو وروستنی مشوره او جرګه پر دغې خبري غوته شوې وه چه «له هرې قبيلې څخه دی يو يو ځلمی منتخب شي! او هغوی ټول دی لاسونه سره يو کړي او په يوه وخت کښې دی په خپلو تورو پر محمد باندي ګزارونه وکړي څو چه د محمد صلی الله عليه وسلم له وژلو نه پر ټولو باندي ديت واوړي، او ګرد (ټول) قومونه هغه ديت په تقسيم سره ورکړي، او د بني هاشمو له لاسه دا ونشي چه د محمد صلی الله عليه وسلم د وژلو د انتقام له کبله (وجې) د عربو د ګرد (ټول) قبائلو سره جنګ وکړي او د ګرد (ټول) عربستان دښمنی ځان ته وګټي او قصاص پرې واخلي په هغه شپه کښې چه د دغو ناپاکو پلمو (منصوبو) د عملي کيدلو له پاره تجويزونو جريان درلود (لرلو)، رسول الله صلی الله عليه وسلم حضرت علي کرم الله وجهه ته امر وکړ چه د دوی پر بستره باندي ويده شي او مامور شو چه د خلقو هغه امانتونه چه د رسول الله کره ايښودل شوي وو، په دير

احتیاط د هغو خاوندانو ته ورسوی، او حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه ته ئی تسلی ورکره چه ته به دیره دادینه او اطمینان سره زما په بستره څمله او یقین ولره چه ستا یوه ویښته ته به هم څه زیان او ضرر ونه رسیږی. وروسته له دے نه رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپله د ظالمانو د هجوم له منځه په داسی حال کښی ووت چه «شاهت الوجوه»یی ویل او د دوی په سترګو کښی ئی خاوری شیندلی. او حضرت ابوبکر الصدیق رضی الله تعالیٰ عنه ئی له خپل ځان سره ملګری کړ، او له مکی معظمی څنی څو میله لری لاړ او د «ثور» په غار کښی ئی «چه سړی په نیم ساعت کښی له مکی معظمی نه هلته رسیږی او پر یوه لوړ غره باندی واقع دی» ځای ونیوه دغه غار د دی غره په سر په یوی لوئی مجوفی تیږی (ګټی) کښی دی، چه هغه ته د ننوتلو له پاره یواځی «په لاندینی برخه کښی ئی» یوه داسی تنګه لاره وه چه انسان په ولاړی یا ناستی نشو ورننوتلی او تش په تتر «سینه» سره سړی پکښی ننووت نو ړومبی حضرت صدیق اکبر رضی الله تعالیٰ عنه په دغه غار کښی ننووت، او هغه یی ښه پاک او صاف او ګرد (تول) سوری ئی په زړوکو سره بند کړل چه کوم حشره یا خوځنده تری رسول الله مبارک ته څه ضرر او نقصان ونه رسوی زړوکی خلاص شول او یو سوری پاتی شو، نو په هغه کښی ئی خپله پښه کیښوده کله چه د دی غار ګرد (تول) داخلی انتظامات تمام شول، نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم حضور ته ئی عرض وکړ چه دننه تشریف راوړئ،رسول الله مبارک د صدیق اکبر رضی الله تعالیٰ عنه پر ورانه خپل مقدس سر کیښود، او استراحت ئی وفرمایه په دی وخت کښی مار د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه پښه وچیچله سره د دی چه د صدیق په پښه بلکه په ګرد (تول) وجود کښی د دی مار د چیچلو څخه دیر سخت درد او سوی ؤ مګر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه خپله پښه نه خوځوله چه د رسول الله مبارک په استراحت کښی څه خلل واقع نشی کله چه پاک رسول الله خپلی سترګی پرانستلی.، او دغه پیښه ورته معلومه شوه، نو د خپلی مبارکی خولی ئی لاړی د صدیق رضی الله تعالیٰ عنه پر پښی پوری کړی، چه د هغو په اثر ئی باذن الله سم د لاسه شفا ومونده.
له هغه لوری کفار د هغه «قائف ـ پل وهونکی» په لارښوونه چه د قدمونو په پیژندلو کښی دیر ماهر ؤ، د پاک رسول الله په لټولو پسی رهی (روان) شول. او هغه د دوی د قدمونو نښی تر غاره پوری ورسولی مګر د الله تعالیٰ په قدرت د هغه غار په لاره کښی غنی «عنکبوت» خپله لویه تنسته وځغلوله او هندسی اشکال ئی تری جوړ کړل او وحشی کوتری هلته ځاله جوړه کړه او هګی ئی پکښی وکری د دی وضعیت له لیدلو څخه ګردو (تولو) کفارو «قائف» دروغجن وګڼانه، او په خپلو منځونو کښی ئی سره وویل چه دغه د غنی ځاله خو دومره پخوانی راښکاری چه هدو د محمد صلی الله علیه وسلم له ولادت څخه به هم د مخه او بدلی شوی وی او که څوک په دغه غار کښی ننوتلی وی، نو دغه تارونه به ولی روغ پاتی کیدل؟ او دغه هګی به څرنګه نه ماتیدلی؟
ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه ته دننی له لوری د کفارو قدمونه په نظر ورتلل، او په دغه فکر او ویره کښی ؤ، چه د ده د ځان څخه محبوب او عزیز آغا او بادار او لوی سردار د سیدالابرار او مخزن الانوار هغه مبارک ذات ته څه ضرر او نقصان ونه رسیږی، او د دښمنانو بد نظر پری ونه

لګیږی، چه د هغه په مقابل کښی دنیا او مافیها هیڅ دی او په خپله صدیق اکبر رضی الله تعالیٰ عنه هم خپل ټول مال او شته لکه خپل ځان تری جار (قربان) کری ؤ؛ نو له ډیری ویری ئی وویل «یا رسول الله! که دوی لږ څه ښکته شی ـ او د خپلو قدمونو په لوری وګوری ـ نو مونږ به ووینی» پاک رسول الله وفرمایل «ای ابابکره! ستا خیال د هغو دوؤ په نسبت چه دریم ئی الله تعالیٰ دی، څه دی؟» یعنی کله چه د الله تعالیٰ «نصرت، اعانت، حمایت او حفاظت» له مونږه سره دی نو بیا له چا څخه ویریږی؟» په دغه وخت کښی پاک الله یو خاص قسم سکون او اطمینان د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر مبارک قلب، او د ده په برکت ابی بکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه پر پاک قلب نازل کړ. او د پرښتو په فوځ سره ئی د هغوی حفاظت او تائید وکړ. او دغه د الله تعالیٰ د غیبی تائید یوه کرشمه وه چه د غنی په هغو تارونو سره چه ﴿أَوْهَنَ الْبُيُوتِ﴾ ئی فرمایلی دی، د دوی ساتنه وکړه او هغه ئی د ډیرو لویو مضبوطو کلاګانو څخه زیات د تحفظ ذریعه وګرځول، او په دی ډول (طریقه) الله تعالیٰ د کفارو خبره ښکته، او د دوی ګرد (ټول) تدبیرونه ئی له خاورو سره برابر کړل.

دوی تر دریو ورځو پوری په دغه غار کښی اقامت وفرمایه او وروسته له هغه د مدینی منوری په لوری روان شول او په سلامتی او عافیت سره هلته ورسیدل.

بیشکه د کارونو په انجام کښی د الله تعالیٰ کلمه علیا کیږی او الله جل جلاله پر هر شی غالب او قوی دی او د پاک الله هیڅ یو کار له حکمت څخه خالی نه دی.

**تنبیه:** ځینو د ﴿وَأَيَّدَهُ بِجُنُودٍ لَّمْ تَرَوْهَا﴾ څخه د «بدر» او «حنین» او نوری غزاګانی مراد کری دی، چه په هغو کښی د ملائکو نزول شوی دی، مګر له ظاهری سیاقه همغه ښکاری، چه مونږ پاس بیان کړل والله اعلم.

---

انفِرُوا خِفَافًا وَثِقَالًا وَجَاهِدُوا بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٤١﴾

---

ځئ تاسی (غزا ته) حال دا چه سپک اوسئ او درانه او جهاد کوئ تاسی په مالونو خپلو او په ځانونو خپلو په لاره د الله کښی (د دین د ترقی لپاره) دغه تګ غزا ته) خیر بهتر دی تاسی ته که یئ تاسی چه پوهیږئ (په خپله ګټه (فائده) او تاوان)

---

**تفسیر:** (خفافاً وثقالاً) یعنی سواره او پلی (پیاده) ماړه او عاجزان ـ زاړه او ځلمیان (سپک او درانه ـ روغ او رنځوران ـ بی وسلی او وسله والا ـ خواران او چاخ ـ مریونه او اصیلان ـ بی ښځی او د ښځو خاوندان) په هر حال کښی چه وئ ښایی چه غزا ته ووځئ! او د عمومی لښکر

کښی په وخت کښی هیڅ یو عذر او پلمه (بهانه) مه وړاندی کوئ! (او غزا کوئ په مالونو خپلو سره په توښه او په وسله او په ځانونو خپلو چه ځان ربروئ دپاره د اعلاء د کلمة الله ځکه چه دغه ستاسی تګ غزا ته ډیر غوره دی تاسی ته) یعنی هم له دنیوی او هم له اخروی حیثه.

لَوْ كَانَ عَرَضًا قَرِيبًا وَسَفَرًا قَاصِدًا لَّاتَّبَعُوكَ وَلَٰكِن بَعُدَتْ عَلَيْهِمُ الشُّقَّةُ ۚ وَسَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَوِ اسْتَطَعْنَا لَخَرَجْنَا مَعَكُمْ يُهْلِكُونَ أَنفُسَهُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴿۴۲﴾

که وی مال نژدی (آسان) او سفر سهل (منځنی) نو خامخا متابعت به کړی ؤ دوی ستا ولیکن لری شوی دی په دوی باندی هغه مسافه (نو ځکه ئی مخالفت وکړ) او ژر به قسمونه وکړی منافقان په الله که طاقت وی زمونږ (د سفر) نو خامخا به وتلی وو مونږ له تاسی سره؛ هلاکوی دوی نفسونه خپل (د دروغو په قسمونو)؛ او الله عالم دی چه بیشکه دوی هرومرو (خامخا) دروغجنان دی (په دی اظهار کښی)

**تفسیر:** دا ئی منافقینو ته وفرمایل چه که سفر سپک وی او بی له ربړه غنائم او ولجی د دوی لاس ته ورځی یا ئی توقع وی نو په تلوار سره وردرومی لیکن که کوم سخت او مشکل مزلونه ئی په مخ کښی وی نو ځانونه تری بیرته کاږی او د هغو د طی کولو او وهلو همت په دوی کښی نه وی او ورته دروند او مشکل ښکاری او هغه سفر له دوی نه ممکن نه وی.
(وسیحلفون ـالایة ـ او ژر به قسمونه وکړی منافقین په الله کله چه تاسی دوی ته بیرته راشئ له تبوک نه که طاقت وی زمونږ د سفر نو خامخا به وتلی وو مونږ له تاسی سره غزا ته) یا له وتلو څخه پخوا دغه قسمونه دوی یادوی او راز راز (قسم قسم) حیلی، پلمی (تدبیرونه) او بهانی کوی چه تاسی هغوی ته اجازه ورکړئ چه په مدینی منوری کښی پاتی شی یا ستاسی د بیرته راتګ په وخت کښی په دروغو دروغو قسمونه خوری او له خپله ځانه خبری جوړوی څو په خپل نفاق پرده واچوی حال دا چه له الله تعالیٰ جل جلاله څخه د دوی دروغ او نفاق پټ نشی پاتی کیدی. دغه نفاق او تیرایستل او د دروغو قسمونه بالاخر د دوی په حق کښی د ځان وبال او د روح جنجال ګرځی.

عَفَا اللّٰهُ عَنكَ لِمَ أَذِنتَ لَهُمْ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَتَعْلَمَ الْكٰذِبِينَ ﴿۴۳﴾

عفوه وکړه الله له تا نه، د څه دپاره اذن (اجازه) ورکړه تا دوی ته (د وروسته پاتې کیدلو او ولې دې پرې نښودل) تر هغه پورې چه ښکاره شوی وی تاته هغه کسان چه رښتینی دی (په دغه عذر کښې) او معلوم کړی وی تا دروغجنان.

**تفسير:** منافقين په دروغو سره عذرونه وړاندې کوی. کله چه دوی مدينې منورې د پاتې کيدلو اجازه له تا څخه غواړی نو تاسی د دوی له مکر او کيد او نفاق څخه سترگی پټوئ او داسی گڼئ چه د هغوی په رفاقت او ملگرتوب کښې پرته (علاوه) له فساده بل هيڅ کومه ښيگڼه (نفع) او گټه (فائده) نه ده متصوره او د هم دی له امله (وجی) تاسی هغوی ته اجازه ورکړه نو پاک خدای جل جلاله دغه وفرمايل چه که تاسی دوی ته اجازه نه وی ورکړی نو هغه به ډيره بهتره او ښه وه ځکه چه هلته به ظاهره کيده چه د دوی نه ورتگ ستاسی په اجازه پورې موقوف نه ؤ بلکه دوی ته د ورتگ توفيق له سره نه ؤ. هو! ستاسی په مخ کښې به د دوی رښتيا او دروغ ښکاره کيدل نو په اجازه ورکولو کښې هيڅ گناه نه وه خو اجازه نه ورکول د حاضرو مصالحو په اعتبار زيات موزون ؤ نو د دغه اعلیٰ او اکمل صورت د ترک له سببه ئې خطاب په «عفا الله عنک» سره شروع کړ. دا خبره ضروری نه ده چه د عفوی لفظ خامخا د گناه په مقابل کښې استعماليږی. ځينو محققينو د «عفاالله عنک» جمله لکه چه د عربو محاوره ده د کلام په سر کښې يوازی د دعا او تعظيم له پاره بللی ده مگر له اسلافو څخه هغه څه منقول دی چه مخکښې مو بيان کړل او د «لم اذنت لهم» لفظ د هغه تائيد کوی. والله اعلم. (ځينی مفسرين د «لم اذنت لهم» ترجمه داسی کوی ولی دی اذن ورکړ د پاتې کيدلو د غزا نه دوی ته بلکه اذن به دی ورته نه کاوه او ځينی ئې داسی کوی ولی اذن ورکړ تا دوی ته د پاتې کيدلو د غزا نه بی مهلته بلکه مهلت به دی کړی ؤ په دی اذن کښې).

لَا يَسْتَأْذِنُكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ أَن يُجَاهِدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ ۗ وَاللّٰهُ عَلِيمٌ بِالْمُتَّقِينَ ﴿۴۴﴾ إِنَّمَا يَسْتَأْذِنُكَ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَارْتَابَتْ قُلُوبُهُمْ فَهُمْ فِي رَيْبِهِمْ يَتَرَدَّدُونَ ﴿۴۵﴾

نه غواړی اجازه له تا نه هغه کسان چه مؤمنان دی په الله او په ورځی آخری (د قیامت په پته او ښکاره په وروسته پاتی کیدلو له دی نه) چه جهاد وکړی دوی په مالونو خپلو او ځانونو خپلو سره؛ او الله ښه عالم دی په پرهیزګارانو (ځان ساتونکو له بیرته پاتی کیدلو څخه) بیشکه هم دا خبره ده چه اجازه غواړی له تا نه (ای محمده د تخلف) هغه کسان چه ایمان نه لری (په پته) په الله او پر ورځی آخری باندی (چه قیامت دی) او چه شکمن دی زړونه د دوی (د دین په حقانیت کښی) نو دوی په شک خپل کښی سرګردانه (او متحیره) دی.

تفسیر: یعنی هغه کسان چه په زړونو کښی ئی د ایمان او تقویٰ نور او رڼا (رڼرا) ده د هغوی شان دا نه دی چه له جهاده د ځان ژغورنی (محفوظونی) له پاره د مسابقی په دول (طریقه) دغسی اجازه وغواړی. د هغوی حال خو داسی دی لکه چه د هم دغه (۱۰) جزء «التوبة» په (۹۲) «آیت» (۱۲) رکوع په «تولوا واعینهم تفیض من الدمع حزنا الا یجدوا ما ینفقون» کښی ئی بیان راځی یعنی که د وسائلو او وسائطو د نشتوالی او د نورو معاذیرو له امله (وجی) د «فی سبیل الله جهاد» له شرفه محرومیږی نو د هغه فضل او شرف د فوتیدلو له سببه د هغوی سترګی له اوښکو څخه ډکیږی. او بی حیایی سره له جهاده د ځان ژغورنی (ساتنی) اجازه غوښتل د هغو کسانو دود او دستور دی چه د الله تعالیٰ جل جلاله په وعدو یقین نه لری او په اخروی ژوندون ئی څه باور نه وی او د الله تعالیٰ جل جلاله بشارتونو ته چه د اسلام او مسلمانانو د غلبی او بری په نسبت شوی دی تل د شک په نظر ګوری.

وَلَوْ أَرَادُوا الْخُرُوجَ لَأَعَدُّوا لَهُ عُدَّةً وَلَٰكِن كَرِهَ اللَّهُ انبِعَاثَهُمْ فَثَبَّطَهُمْ وَقِيلَ اقْعُدُوا مَعَ الْقَاعِدِينَ ﴿٤٦﴾

او که اراده وی د دوی د وتلو (غزا ته له تا سره) نو هرومرو (خامخا) تیار کړی به وو دوی دپاره د وتلو غزا ته څه اسباب د تیاری ولیکن نه ؤ خوښ کړی الله پورته کیدل د دوی (غزا ته) نو سست کړل (الله) دوی او وویل شول دوی ته چه کینئ تاسی له (کور) کیناستونکیو (ښځو، هلکانو، سپین ږیرو) سره

تفسیر: هغوی هیڅکله د کور څخه د وتلو اراده نه درلوده (لرله) که نه د غزا له پاره به ئی څه

سامان او اسباب تیار کړی وی او د (جهاد) د حکم د اوریدلو په وخت کښې به د دروغو عذرونو پسې منډی نه وهلی، خبره دا ده چه الله تعالیٰ جل جلاله د هغوی اشتراک په غزا کښې نه خوښوی که دوی له غازیانو سره تللی وی نو فتنې او فسادونه به ئې پورته کړی وی او د نه ورتګ په صورت کښې به هغوی ته دغه خبره څرګنده شی چه مؤمنانو ته د الله تعالیٰ په فضل د یوه بخرکی په اندازه هم د هغوی د نه تللو څخه څه اندیښنه او پروا نه لری، نو ځکه الله تعالیٰ جل جلاله دوی د مجاهدینو په صفونو کښې له شاملیدلو څخه محروم کړل خو د دی راز (قسم) محرومیت وبال د هم دوی په غاړه دی. ګواکی هغوی ته تکویناً وویل شول چه ځئ له ښځو ـ سپین ږیرو کوچنیانو (بچو) او بې کارو او لتانو سره په کورونو کښې ننوځئ. او دا چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغوی د دروغو عذرونو په ځواب کښې هغوی ته په کور کښې د کیناستلو اجازه ورکړه دا هم د الله تعالیٰ جل جلاله له جانبه یو راز (قسم) امر دی نو ځکه د تکویناً قید هم دومره ضروری نه دی.

لَوْ خَرَجُوْا فِيْكُمْ مَّا زَادُوْكُمْ اِلَّا خَبَالًا وَّلَاۡاَوْضَعُوْا خِلٰلَكُمْ يَبْغُوْنَكُمُ الْفِتْنَةَ

نو که وتلی وی دغه (منافقان) په (لښکر د) تاسی کښې نو نه به ؤ زیات کړی دوی تاسی ته (هیڅ شی) مګر شر ، خرابی، فساد او چغلی او خامخا چابکی به کړی وه دوی په منځ ستاسی کښې (په چغلی او نورو بدیو کښې) حال دا چه غوښتله به دوی تاسی ته فتنه (ستاسی په منځ کښې د دښمنی په اچولو او له کافرانو څخه ستاسی په ویرولو کښې)

**تفسیر:** یعنی که منافقان له تاسی سره تللی وی نو د خپل جبن، بې زړه توب او ویری له سببه به ئې د نورو غری هم سست کړی وی او یو له بل سره به ئې د اچولو له امله (وجی) د مسلمانانو په منځ کښې جدایی او تفریق اچول او د نفاق اچولو په لاره کښې به ئې کوښښونه کول او د دروغو افواهاتو په وسیله به ئې مسلمانان له دښمنانو څخه ویرول الغرض د دغو منافقانو له وجود څخه د ګټی او فائدی هیڅ یوه هیله (ارزو) او امید نه ؤ بلکه زیان او ضرر به زیاتیده او د فتنې اچولو زیاته اندیښنه موجوده وه، نو د هم دغو. سببونو له امله (وجی) الله تعالیٰ جل جلاله هغوی ته توفیق ورنه کړ چه له تاسی سره غزا ته لاړ شی.

وَفِيْكُمْ سَمّٰعُوْنَ لَهُمْ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۷﴾

او شته په تاسي کښې جاسوسان د دوی دپاره (یا آوریدونکی د خبرو د دوی په ضرر ستاسي) او الله ښه عالم (پوه) دی په (نیتونو د) ظالمانو.

**تفسیر:** یعنی اوس هم جاسوسان یا ځینی داسی ساده او احمقان په تاسی کښی شته چه د هغوی خبری اوری او لږ دیر تری متاثر کیږی «ابن کثیر- رحمة الله علیه» اګر که دوی هغسی فتنه او فساد نشو اچولی چه د دغو بدانو له وجوده هیله (امید) کیدی شوه بلکه له تاسی سره د داسی جاسوسانو یو ځای تلل له یوه حیثه مفید دی، ځو هغوی په خپلو سترګو د مسلمانانو تینګ عزم، شجاعت میرانه (بهادری)، زرورتوب او نور محامد وګوری او خپلو مشرانو او امیرانو ته ئی خبر ورکړی څو د هغوی پر زړونو ئی د مسلمانانو ویره او هیبت هم پیدا او ځای ونیسی.

لَقَدِ ابۡتَغَوُا الۡفِتۡنَةَ مِنۡ قَبۡلُ وَقَلَّبُوۡا لَكَ الۡاُمُوۡرَ حَتّٰى جَآءَ الۡحَقُّ وَظَهَرَ اَمۡرُ اللّٰهِ وَهُمۡ كٰرِهُوۡنَ ﴿۴۸﴾

خامخا په تحقیق لټولی وه دوی فتنه (خرابی) پخوا (له دی نه په احد او خندق کښی) او اړولی ئی وو تاته تول کارونه (په تدبیرونو او حیلو ستا د دین د ابطال له پاره) تر هغه پوری چه راغی حق (رښتیا وعده ـ د الله نصرت) او ظاهر (ښکاره غالب) شو امر (حکم ـ دین) د الله حال دا چه دوی بد ګڼونکی وو (نارضا په زړه او ظاهراً په اسلام کښی داخل شول)

**تفسیر:** څه مهال چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینی منوری ته تشریف راوړ، د مدینی منوری یهودانو او منافقانو د حضرت پیغمبر علیه السلام په مخالفت کښی راز راز (قسم قسم) فتنی، حیلی او پلمی (منصوبی) جوړولی او د اسلام د ورځ په ورځ او زیاتو ترقیاتو د مخ نیوی له پاره ئی دیر تدبیرونه او چلونه وکړل مګر څه وخت چه په بدر کښی د کفر او شرک ډیری لویی ستنی ولویدلی او د کفارو غتان او مشران ووژل شول او په یوه حیرانوونکی ډول (طریقه) سره د الله تعالیٰ جل جلاله په فضل د اسلام فتح او غلبه ښکاره شوه نو (عبدالله بن ابی) او نورو وویل «ان هذا امر قد توجه ـ یعنی داسی ښکاری چه نور د دی کار مخه نیول ګران او مشکل دی.» لکه چه دیر خلق وویریدل او د ویری له امله (وجی) ئی تش په خوله د کلمی په ویلو پیل (شروع) وکړ مګر څرنګه چه د دوی په زړونو کښی کفر پټ ؤ نو ځکه هر چیری چه به ئی د اسلام او مسلمانانو بری او غلبه لیدله نو دوی به د غیظ او غضب، بغض او حسد په اور کښی سوځیدل. الغرض د هغوی دغه مکاری او فتنه او شرارت کومه نوی خبره نه وه له شروع څخه د هغوی وضعیت هم داسی ؤ. د «احد» په جنګ کښی هم دغه منافقان له خپلو ډلو سره له لاری څخه

بیرته راګرځیدلی وو او د «خندق» په غزا کښې به ئی ویل «یا اهل یثرب لا مقام لکم فارجعوا» مګر په پای (اخر) کښې دوی ولیدل چه حق په څه ډول (طریقه) غلبه او نصرت ومومند؟ او باطل په څه ډول (طریقه) ذلیل، سپک، خوار او رسوا شو.

وَمِنْهُم مَّن يَقُولُ ائْذَن لِّي وَلَا تَفْتِنِّي ۚ أَلَا فِي الْفِتْنَةِ سَقَطُوا ۗ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌ بِالْكَافِرِينَ ﴿٤٩﴾

او ځینی له دغو (منافقانو) څخه هغه څوک دی چه وائی اذن (اجازه) راکړه ماته (د پاتی کیدلو) او مه اچوه ما په فتنه (ګمراهی) کښې (نو الله وفرمایل چه) خبردار شئ چه په ګمراهی کښې (لا له پخوا) لویدلی دی دوی او بیشکه چه جهنم (دوزخ) هرومرو (خامخا) محیط (چاپیر کیدونکی) دی په کافرانو.

**تفسیر:** یو لوی منافق (جد بن قیس) وویل چه ما هم دلته په مدینه کښې پرېږدئ چه د روم ښځی ډیری ښکلی او پیمخی دی که زما سترګی په هغوی ولګیږی نو ځان به تری نشم ساتلی نو هلته می مه بیایئ چه د ګمراهی په کوهی کښې ونه لویږم. نو الله تعالیٰ جل جلاله وفرمایل چه هغه د دی لفظ په ویلو او په خپل بی زړه توب، ویری، کفر او په دروغجنی پرهیزګاری باندی د پردی په اچولو سره لا د ګمراهی په کنده کښې لویدلی دی او له دی نه وروسته هم د کفر او نفاق په سبب د دوزخ په کنده کښې لویدونکی دی. ځینو دغه آیت د ګردو (تولو) منافقانو په حق کښې ګڼلی دی. او د «ولا تفتنی» څخه ئی دا مطلب اخیستی دی چه «مونږ له خپلو ځانونو سره مه بیایئ! او د مالونو او نورو شیانو په زیان کښې مو مه اخته کوئ!» نو د دی ځواب ئی په «الا فی الفتنة سقطوا» سره ورکړ.

إِن تُصِبْكَ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ ۖ وَإِن تُصِبْكَ مُصِيبَةٌ يَقُولُوا قَدْ أَخَذْنَا أَمْرَنَا مِن قَبْلُ وَيَتَوَلَّوا وَّهُمْ فَرِحُونَ ﴿٥٠﴾

که ورسیږی تاته (په کومه غزا کښې لکه بدر) کومه ښیګڼه (لکه نصرت یا غنیمت) نو خفه کوی دوی (دغه نیکی له ډیره حسده) او که ورسیږی تاته (په کومه غزا کښې لکه بدر) کومه سختی (لکه زخم یا مرګ) نو وایی دوی په تحقیق نیولی ؤ مونږ کار (د احتیاط) خپل لا له پخوا څخه (چه جنګ ته

لاړ نشوو) او شا ګرځوي دوی (ځي ستا له مجلسه) حال دا چه دوی خوشحاله وي (ستاپه مصيبت)

**تفسير:** د منافقانو عادت داسي ؤ كله به چه فتح او بری د مسلمانانو په برخه کيده نو ډير به خفه کيدل، کريدل او سوځيدل او که کوم وخت به دوی ته کوم تکليف او زحمت وررپيښيده مثلاً ځينی مسلمانان به شهيدان يا ټپيان (زخميان) کيدل نو په ډير فخر، کبر او لوئی سره به ئی ويل چه شکر مونږ د خپلو وړاندينيو تدابيرو او احتياط له امله (وجی) په امن او خوندی پاتي شو مونږ لا له پخوا څخه د خپلو ځانونو د ساتنی فکر او انتظام کړی ؤ، مونږ پوهيدو چه په پای (آخر) کښې هم داسي يوه بلا راتلونکی ده نو ځکه مونږ له هغوی سره لاړ نشوو. مطلب دا چه هم داسي تكبر او لويي به ئی ښکاره کوله او لاپي به ئی وهلی او له ډيری خوښی او خوشحالی ځنی به ئی اتنونه اچول او له خپلو مرکو (مجلسونو) څخه په برابر خپلو کورو ته تلل.

قُل لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَنَا هُوَ مَوۡلَىٰنَاۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ﴿٥١﴾ قُلۡ هَلۡ تَرَبَّصُونَ بِنَآ إِلَّآ إِحۡدَى ٱلۡحُسۡنَيَيۡنِۖ وَنَحۡنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمۡ أَن يُصِيبَكُمُ ٱللَّهُ بِعَذَابٖ مِّنۡ عِندِهِۦٓ أَوۡ بِأَيۡدِينَاۖ فَتَرَبَّصُوٓاْ إِنَّا مَعَكُم مُّتَرَبِّصُونَ ﴿٥٢﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) له سره به ونه رسيږی مونږ ته مګر همغه چه ليکلی دی الله زمونږ له پاره هم دغه (الله) دی مولا (کار جوړوونکی) زمونږ، او (خاص) پر هم دغه الله باندی دی نو توکل (اعتماد) کوی مؤمنان (د هيلو به تر سره کيدلو، د اړتياؤ (احتياج) په پوره کيدلو او د آفتونو څخه په ژغورلو (محفوظولو) کښې ووايه (ای محمده دغو منافقانو ته) چه آيا انتظار کوئ مونږ ته(يعنی نه کوئ) مګر د يوی له دوو نيکيو څخه (چه شهادت يا نصرت دی) او مونږ انتظار کوو تاسی ته (د يوی له دوو بديو څخه) چه ورسوی تاسی ته الله کوم قسم عذاب (خاص) له خپلی خوا (لکه زلزله يا تندر يا نور) يا په لاسونو زمونږ (لکه قتل، شړل، جزيه يا نور) او انتظار کوئ تاسی بيشکه چه مونږ هم له تاسی سره انتظار کونکی يو.

**تفسير:** يعنی سختی او اسانی چه د کوم وخت له پاره مقدره ده هغه له سره بيرته ګرځيدونکی

نه ده او نه په دنیا کښې د هغه چاره کیدی شي مګر څرنګه چه مونږ په ظاهر او باطن کښې خپل حقیقی مولیٰ او رب، الله تعالیٰ جل جلاله ګڼو، نو ځکه مونږ خپلې غاړې د ده د فیصلې او حکم په مقابل کښې ایښې دی او هیڅ یوه سختې مونږ د ده د حکم له منلو څخه نشي منع کولی او مونږ یوازې په هم دغه الله تعالیٰ جل جلاله توکل او اعتماد لرو چه الله تعالیٰ جل جلاله دغه عارضی سختی په آخرت کښې په یقینی ډول (طریقه) او ډیر ځله په دنیا کښې هم په راحت او خوښې سره بدلوی. په دغه صورت کښې تاسې زمونږ په نسبت د دوو نیکیو څخه ضرور د یوې نیکی هیله (ارزو) او امید کولی شئ! که د الله تعالیٰ جل جلا له په لاره کښې ووژلی شو، نو شهادت او جنت را په برخه کیږی او که بیرته روغ رمت راغلو، نو د غازی لوی خطاب او اجر یا غنیمت او ولجه مو ضرور په برخه کیږی لکه چه په صحیح حدیث کښې راغلی دی چه الله تعالیٰ جل جلاله د مجاهدینو په نسبت د دغو شیانو ذمه وهلی ده، د دی په خلاف مونږ ستاسې په برخه کښې داسې انتظار لرو چه د دوو خرابیو څخنې به یوه خرابی هرومرو (خامخا) تاسې ته رسیږی، یا به د قدرت له خوا په تاسې د نفاق او شرارت له امله (وجې) بلا واسطه کوم عذاب مسلط شي یا به الله تعالیٰ جل جلا له تاسې ته زمونږ په لاس سخت عذاب درکړی چه په هغه به رسوا شئ او ستاسې د نفاق او شقاق پرده به پورته شي، په هر حال مونږ او تاسې دواړه یو د بل د پای او انجام د لیدلو له پاره انتظار باسو، آخر به معلومه شي چه په مونږ او تاسې کښې د کوم یوه خاتمه او انجام ښه دی؟ او کوم یو ډیر محتاط او د عاقبت په فکر کښې دی.

---

قُلْ أَنفِقُوا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا لَّن يُتَقَبَّلَ مِنكُمْ ۖ إِنَّكُمْ كُنتُمْ قَوْمًا فَاسِقِينَ ﴿٥٣﴾

---

ووایه (ای محمده! منافقانو ته) چه لګوئ (خپل مالونه په هر شان ئې چه لګوئ) په رضا یا په زور (د اسلام) له سره به قبول نه کړی شي له تاسې؛ بیشکه چه تاسې یئ یو قوم فاسقان (د اسلام له دائرې نه وتونکی)

---

تفسیر: (جد بن قیس) منافق چه د رومی ښځو فتنه ئې پلمه (بهانه) کوله دا ئې هم ویلی ؤ چه یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! زه په خپله د (تبوک) جهاد ته نشم تلی ـ لیکن مالی مرسته (مدد) درسره کولی شم نو ځواب ئې داسې ورکړ چه د بی اعتقادانو مال نه قبلیږی، په خوښې سره ئې لګوی یا په ناخوښه ځکه په خوښې سره د الله تعالیٰ جل جلاله په لاره کښې د مال لګولو توفیق په دوی کښې نشته! «ولاینفقون الا وهم کارهون» خو سره له هغه هم که بالفرض په خوښې سره څه مال د الله تعالیٰ جل جلاله په لاره کښې ولګوی نو الله تعالیٰ جل جلاله هغه نه قبلوی او سبب ئې په وروستنی آیت کښې راښوول شوی دی.

وَمَا مَنَعَهُمْ أَنْ تُقْبَلَ مِنْهُمْ نَفَقَٰتُهُمْ إِلَّآ أَنَّهُمْ كَفَرُوا۟ بِٱللَّهِ وَبِرَسُولِهِۦ وَلَا يَأْتُونَ ٱلصَّلَوٰةَ إِلَّا وَهُمْ كُسَالَىٰ وَلَا يُنفِقُونَ إِلَّا وَهُمْ كَٰرِهُونَ ﴿۵۴﴾

او نه دی منع کړی دوی له دی چه قبول کړی شی له دوی نفقی (ورکړی) د دوی (هیڅ شی) مګر هم دی خبری چه بیشکه دوی کافران شوی دی په الله او په رسول د دغه (الله) او نه راځی دوی لمانځه ته مګر په دی حال چه دوی سست وی او نه لګوی دوی (د الله په لاره کښی هیڅ مال) مګر په دی حال کښی چه دوی ناخوښه وی

**تفسیر:** د نه قبلیدلو اصلی سبب خو د هغوی کفر دی لکه چه مونږ پخوا له دی نه په متعددو ځایونو کښی د څو آیتونو په تفاسیرو کښی ورته اشاره کړی ده چه د کافرانو هر یو عمل مړ او بی روحه وی. باقی په اخلاص سره لمانځه ته نه راتلل یا په بد زړه سره مال لګول دغه ګرد (ټول) د کفر ظاهری آثار دی.

فَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَٰلُهُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُهُمْ ۚ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُم بِهَا فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَتَزْهَقَ أَنفُسُهُمْ وَهُمْ كَٰفِرُونَ ﴿۵۵﴾

نو په تعجب کښی دی نه آچوی تا (ډیر) مالونه د دوی او نه (ډیر) اولاد د دوی (ځکه چه دغه ګرد (ټول) استدراج دی)؛ بیشکه هم دا خبره ده چه اراده لری الله د دی چه عذاب ورکړی دوی ته په سبب د هغو (شیانو) په دغه ژوندانه دنیوی کښی او (په سختی او غم) راووځی ارواح (ساوی) د دوی حال دا چه دوی کافران وی (او په کفر کښی مړه شی)

**تفسیر:** داسی شبهه پیدا کیدی شوه هر کله چه دوی دومره مردود دی نو په مالونو او اولادونو او نورو نعمتونو ولی بریالی (کامیاب) شوی دی؟ نو د هغه ځواب ئی ورکړ چه دغه نعمتونه د هغوی په حق کښی لوی عذاب دی لکه چه یوه خوندوره لذیذه غذا د روغ رمټ سړی صحت، روغتیا او قوت زیاتوی او فاسدالاخلاط رنځور هلاکت ته ورنژدی کوی، هم دغه حال د هغو دنیوی نعمتونو (مالونو، اولادونو او نورو) وګڼئ! د یوه کافر په حق کښی دغه شیان د هغوی د بدو مزاجونو له امله (وجی) د هلاهلو زهرو په شان دی، څرنګه چه کافران د دنیا په حرص او

مینه کښې غرق او ډوب وی نو ځکه لوبړی د هغی په تولولو کښې بی حده رېړونه (تکلیفونه) ګالی (برادشت کوی)، بیا که لږ څه زیان وروړسیږی نو څومره مینه او محبت چه له دغو شیانو سره لری هم هغومره غم او درد هم ور رسیږی او هیڅ وخت یی د هغه له فکر، اندیښنی او خفګان څخه زړه نه خالی کیږی نو بیا کله چه مرګ دوی له دغو محبوبو شیانو څخنی جلا (جدا) کوی نو د دغه وخت د صدمی، حسرت او افسوس کولو اټکل ډیر ګران او مشکل کار دی.

مطلب دا چه د دنیا عاشق او حریص ته هیڅکله حقیقی هوسایی (ارام) اساسی اطمینان نه په برخه کیږی لکه چه د (اروپا) او (امریکا) او نورو ډیرو لویو لویو پانګو (سامایه) لرونکو (سرمایه دارانو) وینا‌وی په دغی خبری شاهدی دی. پاتی شول مؤمنین چه مال او اولاد او نور دنیوی شیان خپل معبود او د ژوندون اصلی نصب العین نه ګڼی، څرنګه چه د دوی په زړونو کښې د دنیا د محبت مرض نه وی نو ځکه دغه شیان د هغوی په حق کښې نعمت او له دین سره د مرستی (مدد) ذریعه ګرځی، برسیره په دی زیاتره کافران د مال او اولاد په ډیر والی مغروریږی او په کفر او طغیان کښې ئی لا پسی شدت او زیاتوالی راځی او د دی خبری سبب ګرځی چه هغوی تر آخری سلګی پوری کافر پاتی وی او د مدینی منوری د منافقانو حال چه د هغو په حق کښې دغه آیتونه نازل شوی دی هم داسی ؤ چه په ناخوښی سره به ئی په جهاد او نورو ځایونو کښې د ریاء او نفاق له پاره مالونه لګول او د دوی په اولادونو کښې ځینی داسی مخلصان مسلمانان هم وو چه له نبی کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم سره به ئی یو ځای په جهاد کښې ګډون کاوه. دغه دواړه شیان د منافقانو د زړه له هیلو څخه بیخی مخالف وو نو ځکه مالونه او اولادونه د هغوی له پاره په دنیا کښې عذاب ګرځیدلی وو.

حضرت شاه صاحب لیکی (یعنی تعجب مه کوه چه بے دینانو ته ولی الله تعالیٰ جل جلاله مال او نعمت ور په برخه کړی دی؟ د بے دینانو په حق کښې اولاد فساد او مال وبال او دولت زحمت دی او د هغه په نسبت د دوی زړونه تل پریشان اوسیږی او له سره تر مرګه پوری د هغه له فکره او ذکره نه خلاصیږی څو چه توبه وکړی یا نیکی او تقویٰ ځان ته غوره کړی).

وَيَحْلِفُونَ بِاللّٰهِ إِنَّهُمْ لَمِنكُمْ وَمَا هُم مِّنكُمْ وَلَٰكِنَّهُمْ قَوْمٌ يَفْرَقُونَ ﴿٥٦﴾ لَوْ يَجِدُونَ مَلْجَأً أَوْ مَغَارَاتٍ أَوْ مُدَّخَلًا لَّوَلَّوْا إِلَيْهِ وَهُمْ يَجْمَحُونَ ﴿٥٧﴾

او قسمونه کوی په الله چه بیشکه دوی خامخا له (ډلی) ستاسی (مسلمانانو) څخه دی حال دا چه نه دی دوی له (ډلی) ستاسی څخه (د باطنی کفر په

سبب) ولیکن دوی (داسي یو) قوم دی چه ویریږی (له تاسي نو ځکه تش په ژبو سره اسلام ښکاروی) که وومومی دوی ځای د پناه یا غارونه (چه پکښي پټ شي) یا بل کوم ځای د ننوتلو(او د پناه نو) خامخا ګرځیدلی به وو دوی هغه ته حال دا چه دوی به منډی وهلی (له ویری د مسلمانانو لکه پری شکولی آسونه چه هیڅ شي به دوی نشو راګرځولی)

**تفسیر:** منافقانو یوازی د دی ویری له امله (وجی) که مونږ د خپل کفر اظهار وکړو نو له مونږه سره همغسي معامله کیږی لکه چه له کفارو سره کیدونکی ده نو دوی به قسمونه خوړل چه مونږ ستاسي «مسلمانانو» له ډلی څخه یو! حال دا چه د دوی دغه وینا بیخي غلطه ده. که چیری هغوی ته د پناه کوم ځای په لاس ورشي یا په کوم غار کښي په پټیدلو سره خپل ژوندون په سر ورسولی شي یا لږ تر لږه د سر ننه ایستلو کوم ځای په لاس ورشي، لنډه دا که د اسلامی حکومت خوف نه وی نو له ګردو (تولو) دعوو څخه دوی لاس اخلی او همغه لوری ته منډی وهی ځرنګه چه دوی نه د اسلامی حکومت په مقابل کښي څه زور او طاقت لری او نه د پناه کوم ځای موندلی شي نو ځکه قسمونه خوری او دروغو پلمی (تدبیرونه) جوړوی.

وَمِنْهُم مَّن يَلْمِزُكَ فِي الصَّدَقَاتِ فَإِنْ أُعْطُوا مِنْهَا رَضُوا وَإِن لَّمْ يُعْطَوْا مِنْهَا إِذَا هُمْ يَسْخَطُونَ ﴿٥٨﴾

او ځینی له دغو (منافقانو) څخه هغه دی چه عیب وائی ستاپه (تقسیم) د صدقاتو (او د غنائمو) کښي نو که ورکړه شي دوی ته (د دوی له غوښتني سره سم) له هغی څخه راضی کیږی (په دی قسمت سره) او که ور نه کړی شي دوی ته له هغه څخه (د دوی په غوښتني) نو هغه وخت دوی په قهریږی

**تفسیر:** ځینو منافقانو او ځینو اعرابو (بانده چیانو) به د صدقاتو او ولجو (غنیمتونو) د ویش په وخت کښي د دنیوی حرص او شخصی عرضونو له امله (وجی) د رسول الله صلی علیه وسلم په نسبت د طعن ژبی خوځولی چه د تقسیم په وخت کښي د انصاف لحاظ نه دی شوی مګر دغه اعتراض به تر هغه وخت پوری ؤ چه هغوی ته د دوی د غوښتنی سره سم صدقی او خیراتونه نه ورکول کیدل که هغوی ته د دوی د طمعی او حرص سره سم برخي ورکولی کیدی نو خوشالیدل او هیڅ اعتراض به ئی نه کاوه، ګواکی له هر حیثه مال او دولت ئی د خپل مقصود قبله ګڼله. وروسته دا ځرګندیږی چه د ایمان مدعی لره نه ښائی چه داسي غوښتنی وکړی یا مد نظر ئی داسي وی.

وَلَوْ أَنَّهُمْ رَضُوا مَا آتَاهُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ سَيُؤْتِينَا اللَّهُ مِن فَضْلِهِ وَرَسُولُهُ إِنَّا إِلَى اللَّهِ رَاغِبُونَ ﴿٥٩﴾

او كه په تحقيق دوى راضي شوى وى په هغه (مقدار د ولجى (غنيمت) او صدقى) چه وركړى ۆ دوى ته الله او رسول د دغه (الله) او ويلي وى دوى كافي (بس) دى مونږ ته الله ژر به راكړى مونږ ته الله له فضل (احسان رحمت) خپل او رسول د دغه (الله له بل غنيمته) بيشكه مونږ الله ته رغبت (تمه) كوونكي يو (چه پخپل فضل سره مونږ له صدقاتو بى پروا وګرځوى نو دا به ورته بهتر ۆ)

**تفسير:** يعني ډيره ښه طريقه خو دا ده هر شي چه الله تعالىٰ جل جلاله د خپل رسول صلى الله عليه وسلم په لاس چا ته وركړ سرى دى پر همغه راضي او قانع اوسى! او يواځى په الله تعالىٰ جل جلاله دى توكل كوى! او داسي عقيده دى ولرى كه د پاک الله جل جلاله اراده وى نو په آينده كښې به د خپل فضل او مرحمت نور ډير شيان هم ورته وركوى. مطلب دا چه نه ښائى دنيوى فاني متاع ته ستركى ونيسى او لازم دى چه هر انسان يوازى د مهربان الله جل جلاله غوښتونكى وى او هر هغه ظاهرى او باطنى دولت چه د الله تعالىٰ جل جلاله او د رسول الله صلى الله عليه وسلم له درباره ورته ورسيږى په هغه دى خوشاله او داده اوسى.

إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٦٠﴾

بيشكه هم دا خبره ده چه صدقى (زكات صرفيږى) لپاره د فقيرانو او مسكينانو او عاملانو (مقررو) پر هغه (تحصيل د صدقى) او هغو ته چه الفت (آشنائى) اچولى شي په زړونو د دوى كښې (له اسلام سره) او (صرفيږى) په (خلاصولو د) غاړو (د نادارو مكاتبانو) كښې او پور وړو (تاوان موندونكو) او (صرفيږى) په لاره د الله كښې او (صرفيږى لپاره د) مسافرانو (چه مال ورسره نه وى)؛ (مقرره او لازم كړى شوے ده دغه) فريضه (زكات) له

(جانبه) د الله (دغو مصارفو لره)؛ او الله په هر څه ښه پوه او د حکمت خاوند دی.

**تفسیر:** څرنګه چه د صدقو په ویش کښې په رسول الله صلی الله علیه وسلم طعن شوی ؤ نو ځکه خبرداری ورکوی چه د صدقو طریقه د الله تعالیٰ جل جلاله له جانبه مقرره کړی شوی ده. او پاک الله جل جلاله د صدقو او د نورو د لګښت ځایونه تاکلی (مقرر کړی) او د هغه فهرست ئې د نبی کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم په لاس ورکړی دی چه له هغه سره ئې سم ویشی او د هیچا د غوښتنی تابع نشی کیدی. په حدیث کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی «الله تعالیٰ جل جلاله د صدقو (زکات) د ویش اختیار نبی ته نه دی پریښی بلکه بالذات ئې په خپله د هغه د لګښت ځایونه تاکلی (مقرر کړی) چه دغه اته دی

۱ـ فقراء (چه له هغوی سره څه شی نه وی)

۲ـ مساکین (چه له هغوی سره په اندازه د حاجت د دوی څه شی میسر نه وی. ځینو علماؤ د فقیرانو او مساکینو تعریف د دی په عکس کړی دی).

۳ـ عاملین (چه د اسلامی حکومت له لوری د صدقو د راټولولو او په نورو خدمتونو او چارو باندی مامور شوی وی).

٤ـ مؤلفة القلوب (هغه کسان چه د دوی د اسلام راوړلو هیله (امید) کیږی یا په اسلام کښې کمزوری وی یا نور داسی. د اکثرو علماؤ په نزد د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له وفاته وروسته مؤلفة القلوبو ته د زکات ورکولو حکم نه دی پاتی.)

٥ـ فی الرقاب (یعنی د مریانو د مکاتب والی بدل اداء او آزاد ئې کړی یا ئې وپیری (واخلی) او بیا ئې آزاد کړی یا د بندیانو ـ قیدیانو ـ فدیه ورکړی او خوشی ئې کړی.)

٦ـ غارمین (هغه کسان چه پر دوی کومه حادثه راغلی وی او د هغی په اثر پور وړی شوی وی یا د کوم ضمانت یا د نورو عواملو له امله (وجی) تر بار لاندی لویدلی وی.)

۷ـ فی سبیل الله (په جهاد او نورو ښو کارو پسی د تلونکو سره مرسته (مدد) وکړی شی.)

۸ـ ابن السبیل (د هغه مسافر او پردیسی سره مرسته (مدد) کول چه د سفر په حالت کښې د نصابو مالک نه وی. اګر که په خپل کور کښې د مال او شتو خاوند هم وی.)

د حنفیانو په نزد تملیک په هر صورت کښې ضروری او فقر شرط دی. د دغو مسائلو تفصیلات دی د فقهی په کتابونو کښې وکتل شی!.

وَمِنْهُمُ الَّذِينَ يُؤْذُونَ النَّبِيَّ وَيَقُولُونَ هُوَ أُذُنٌ ۚ قُلْ أُذُنُ خَيْرٍ لَّكُمْ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَيُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِينَ

وَرَحۡمَةٌ لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡۚ وَٱلَّذِينَ يُؤۡذُونَ رَسُولَ ٱللَّهِ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٦١﴾

او ځینی له دوی هغه کسان دی چه آزار رسوی دوی نبی ته او وائی چه دغه (رسول تول) غوږونه دی (چه هره خبره آوری او تصدیق پری کوی) ووایه (ای محمده ! دوی ته) چه دی آوریدونکی د نبی نیکی (خبری) ستاسی دی باور یقین لری دی په (کلام د) الله او باور کوی دی په (خبرو د خالصو) مؤمنانو او (دی) رحمت دی دپاره د هغو کسانو چه (یواځی ئی په ژبه سره ظاهراً) ایمان راوړی دی له تاسی او هغه کسان چه آزار رسوی رسول الله (محمد) ته مقرر دی دوی ته عذاب دردناک (په آخرت کښی)

**تفسیر:** منافقان به چه په خپلو منځونو کښی سره کیناستل اسلام او د اسلام پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته به ئی بد ویل، که چا به هغوی ته وویل چه داسی خبری مه کوئ! نه چه ستاسی دغه خبری رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورسولی شی، نو دوی به ویل چه هیڅ پروا نشته مونږ به د هغه په مخکښی د خپلو دغو خبرو د دروغو تاویلونه وکړو او د خپلو ځانونو پاکی او براءة به ورڅرګند کړو ځکه چه هغه خو تول غوږونه دی، هره خبره چه اوری سم د لاسه ئی منی، په خبرو د ده تیرایستل دومره ګران نه دی. خبره داسی وه چه حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلی حیا، وقار او کریم النفسی له کبله (وجی) سره له دی چه دروغ به ورته څرګند معلومیدل خو بیا به ئی هم د هغه د ویونکی پت او عزت ساته او نه به ئی رسوا کاوه او د خپل عظیم خلق په بناء د مسامحت او تغافل له لوری به ئی له هغه سره معامله کوله خو دغو احمقانو به داسی ګڼل چه ګواکی رسول الله صلی الله علیه وسلم له سره زمونږ په دغو دروغو، نه دی پوهیدلی، نو الله تعالیٰ جل جلاله د دوی ځواب داسی ورکوی «که دی بیخی غوږ دی خو ستاسی د خیر او ښیګڼی له پاره دی، د نبی الله صلی الله علیه وسلم دغه صفت خو ستاسی دپاره دیر ښه دی او که نه ږومبی نه تاسی نیول شوی وی او دغه هم ممکن دی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دغه اغماض او لوی خلق به کله نا کله تاسی په خپله پوه شئ او د هغه له امله (وجی) به د هدایت په لاره راشئ! د نبی صلی الله علیه وسلم سکوت او اغماض ستاسی پر دروغو خبرو د دی له پاره نه ده چه دوی په رښتیا ستاسی خبری یقینی او واقعی ګڼی بلکه د هغوی یقین او باور د الله تعالیٰ جل جلاله او د مؤمنانو پر خبرو دی. هو! ستاسی په منځ کښی د هغو کسانو په حق کښی چه د ایمان مدعیان دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم سکوت او اغماض یو قسم رحمت دی ځکه چه سم د لاسه د هغوی تکذیب نه کوی او نه ئی رسوا کوی مګر د منافقانو بد کارونه د الله تعالیٰ جل جلاله نه پټ نه دی، پسی شا چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته بد وائی یا د دوی په نسبت «هواذن» وائی او ځوروی ئی نو د سختو سزاوو منتظر اوسی!

يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَكُمْ لِيُرْضُوكُمْ وَاللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَقُّ أَن يُرْضُوهُ إِن كَانُوا مُؤْمِنِينَ ﴿٦٢﴾

قسمونه خوری دوی په الله تاسی ته (چه مونږ منافقان نه یو) دپاره د دی چه راضی کړی دوی تاسی، او الله او رسول د دغه (الله) ډیر حق دار (لائق) دی د دی خبری چه راضی کړی دغه (منافقان) هغه (رسول الله) که وی دوی ایمان راوړونکی (په حقه سره)

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب لیکی «که کوم وخت به رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوی مکر او دغابازی ښکاره کوله نو دوی به د مسلمانانو په مخکښی قسمونه خوړل چه زمونږ په زړونو کښی کومه بده خبره او خراب نیت نه ؤ څو مسلمانان له خپلو ځانونو څخه خوښ او د ځان طرفداری کړی او نه پوهیږی چه دغه چل بازی له الله جل جلاله او له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره بیخی نه پکاریږی» که دوی د ایمان په دعوی کښی رښتینی وی نو نور خلق دی پریږدی او یوازی د الله تعالیٰ جل جلاله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم خوښی او رضا پسی دی ولویږی.

أَلَمْ يَعْلَمُوا أَنَّهُ مَن يُحَادِدِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَأَنَّ لَهُ نَارَ جَهَنَّمَ خَالِدًا فِيهَا ذَٰلِكَ الْخِزْيُ الْعَظِيمُ ﴿٦٣﴾

آیا نه دی پوه شوی دوی په دی چه بیشکه شان دا دی هر څوک چه مخالفت کوی د الله او (مخالفت کوی) د رسول د الله پس بیشکه مقرر دی ده ته اور د دوزخ حال دا چه همیشه به وی دی په دغه دوزخ کښی او هم دغه (خلود) رسوائی ده ډیره لویه.

**تفسیر:** یعنی له هغی رسوائی څخه چه د ځان د ژغورلو (محفوظولو) له امله (وجه) دوی نفاق اختیار کړی دی د هغی نه دا رسوایی لویه ده.

يَحْذَرُ الْمُنَافِقُونَ أَن تُنَزَّلَ عَلَيْهِمْ سُورَةٌ تُنَبِّئُهُم بِمَا فِي قُلُوبِهِمْ ۚ قُلِ اسْتَهْزِئُوا إِنَّ اللَّهَ مُخْرِجٌ مَّا تَحْذَرُونَ ﴿٦٤﴾

ویریږی دغه منافقان له دی نه چه نازل کړی شی پر دغو (مومنانو د قرآن داسی یو) سورت چه خبروی دغه (مومنان) په هغه (کفر او نفاق) چه په زړونو د دوی کښی دی (خو سره له هغه هم استهزاء کوی)؛ ووایه (ای محمده! دوی ته توبیخاً) چه کوئ تاسی (دغه) مسخری (چه په سزا ورسیږئ) بیشکه چه الله ښکاره کوونکی دی د هغو (خبائثو ستاسی) چه ویریږئ (له ښکاره کولو نه د هغو)

**تفسیر:** منافقینو به په خپلو مجلسونو کښی د اسلام او د اسلام د پیغمبر علیه السلام بد ویل او په رښتینو مومنانو پسی به ئی د تمسخر غړونه کول. د دین په مهمو مسئلو به ئی توکی کولی هر کله چه به دوی ته داسی خیال پیدا شو چه ممکن دغه خبری به د رسول الله صلی الله علیه وسلم غوږونو ته ورسیږی نو داسی به ئی ویل چه هیڅ مضایقه نشته، هغه خو بیخی غوږ غوږ دی مونږ د ده په مخکښی هر هغه تاویل او خپلو خبرو ته رنګ ورکړو هغه ئی اوری او هرومرو (خامخا) ئی قبلوی هم. مګر څرنګه چه زیاتره وخت د الله تعالیٰ جل جلاله د وحی په وسیله د دوی د نفاق او بدنیتی قلعی لری کیده نو ځکه دوی ویریدل نه چه کوم داسی قرآنی سورت نازل شی چه زمونږ پټی خبری او نیتونه څرګند کړی. اصلی خبره دا ده چه د منافقینو زړونه د ویری بی زړه توب او کمزوری له امله (وجی) په هیڅ یوه لوری ثابت ولاړ نه وو او د دوی زړونه به تل لړزیدل او که له یوی خوا به د حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم د اغماض او نفسی کرامت له لیدلو څخه ډاډه کیدل مګر له بلی خوا به د قرآن د صاعقی او تنهار له ویری به پریشانی کښی لویدل نو ځکه ئی وفرمایل چه ښه خو داسی ده چه تاسی هم داسی توکی کوئ! او ملندی وهئ! او په خپل تمسخر او استهزاء باندی دوام ولرئ! او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په نسبت «هواذن» ووایئ! او داده اوسئ! لیکن پاک الله جل جلاله هغه شی ضرور څرګندوی چه تاسی تری ویریږئ او هغه ستاسی د مکر او فریب او خداع ګرد (تول) تارونه شلوی.

وَلَئِن سَأَلْتَهُمْ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلْعَبُ ط

او قسم دی خامخا که پوښتنه وکړی ته له دوی نه (چه تاسی ولی استهزاء کوئ په دی حال چه دوی تبوک ته تلل) نو ضرور به وائی خامخا دوی چه بیشکه هم دا خبره ده چه وو مونږ چه مجلس او لوبی مو کولی؛

**تفسیر:** د (تبوک) غزا ته د تللو په وخت کښی ځینو منافقانو د تمسخر او استهزاء په طریقه داسی وویل «دغه سړی محمد صلی الله علیه وسلم ته وګورئ چه د شام د قصرونو او د روم د

ښارونو د فتح کولو خوبونه وینی ده د رومیانو سره جنګ هم د عربو په جنګونو قیاس کړی دی، مونږ یقین لرو چه سبا به ټول د رومیانو په مخ کښی لاس تړلی ولاړ یو. دا زمونږ قاریان صحابه رضی الله تعالیٰ عنهم چه خیټه ور، دارن او دروغ جنان دی څرنګه به د رومیانو له منظمو او مسلحو او باتورو لښکرو سره وجنګیږی» وغیر ذلک من الهفوات. دوی دا دول (طریقه) ویناوی د دی له پاره کولی چه مسلمانان له رومیانو څخه وویروی او زړونه ئی مات کړی کله چه دغه خبری رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورسیدی نو دوی منافقان جلب او احضار کړل او له هغوی څخه ئی د دی حقیقت پوښتنه وکړله دوی وویل (یارسول الله صلی الله علیه وسلم که رښتیا مو پوښتی نو مونږ دغسی عقیده کله لرله خو داسی ویناوی مونږ یوازی د ټوکو او ساعت تیری په دول (طریقه) کولی او غوښتل مو چه په دی ټوکه په آسانی سره مزل ووهو او لار لنده شي.

قُلْ أَبِاللَّهِ وَآيَاتِهِ وَرَسُولِهِ كُنتُمْ تَسْتَهْزِئُونَ ﴿٦٥﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته چه) آیا په الله او په آیتونو (حکمونو) د الله او په رسول د الله پوری وئ تاسی چه استهزاء به مو کوله.

**تفسیر:** یعنی آیا د ټوکو او مسخرو او ساعت تیرولو موقع او محل هم دا دی چه د الله تعالیٰ جل جلاله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغو په احکامو استهزاء او تمسخر وشی؟ په الله جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم پوری استهزاء او د الٰهی احکامو سپکاوی داسی شیان دی که یوازی په ژبه د ټوکو په دول (طریقه) هم وی لوی کفر دی، بالخاصه چه د منافقانو له خوا د شرارتونو او د باطنی پلیتی له امله داسی حرکت صادر شي.

لَا تَعْتَذِرُوا قَدْ كَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ ۚ إِن نَّعْفُ عَن طَائِفَةٍ مِّنكُمْ نُعَذِّبْ طَائِفَةً بِأَنَّهُمْ كَانُوا مُجْرِمِينَ ﴿٦٦﴾

عذرونه مه کوئ تاسی (مونږ ته په دروغو سره) په تحقیق (ظاهراً هم) کافران شوی یئ (د اسلام په طعن سره) وروسته له (اظهار د) ایمان ستاسی که عفوه وکړو مونږ له یوی ډلی له تاسی څخه نو ضرور عذاب به (هم) ورکړو بلی ډلی ته په سبب د دی چه دوی بیشکه وو ګناهګاران.

**تفسیر:** یعنی د دروغو له عذره، حیلو، پلمو (تدبیرنو) او بهانو جوړولو څخه هیڅ فائده په لاس نه ورځی څوک چه د نفاق او استهزاء د سزا وړ لایق) وی هغه به خامخا ور رسیږی هوا که اوس

هم څوک د زړه په صدق توبه وکړي او له خپلو جرمونو څخه لاس واخلي الله تعالیٰ جل جلاله هغه ښښي یا که ئې له ابتداء څخه د کفر او نفاق سره سره، له داسي فتنه اچولو او استهزاء څخه ځان ساتلی وي، نو هغو ته به د استهزاء او تمسخر سزا نه ورکوله کیږي.

اَلْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ بَعْضُهُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ ۘ يَاْمُرُوْنَ بِالْمُنْكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمَعْرُوْفِ وَيَقْبِضُوْنَ اَيْدِيَهُمْ ؕ نَسُوا اللّٰهَ فَنَسِيَهُمْ ؕ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿٦٧﴾

سړي منافقان او ښځي منافقاتي ځیني د دوی له ځینو نورو دي (او په کفر او نفاق کښې ګرد (ټول) سره یو شان دي) امر (حکم) کوي پر منکراتو (بدیو چه ښیي ئې نورو ته) او منع کوي دوی (خلق) له نیکیو څخه او کلک نیسي دوی لاسونه خپل (له خیرات او دعا او مناجات نه) هیر کړی دی دوی الله (او طاعت ئې) نو (الله) بې برخي کړي دي دوی (له خپل رحمت نه) بیشکه چه منافقان هم دوی دي فاسقان (یا دوی هم دغه وتونکی دي له دائرې د ایمان نه)

**تفسیر:** یعني له ټولو څخه لوی یاغیان او غاړه غړوونکی نافرمانان هم دغه بد باطنان منافقان دي چه د دوی نارینه او ښځي سره له دې چه په ژبو د اسلام اظهار کوي، شپه او ورځ په دې هڅه کښې دي چه هر دول (طریقه) حیلي او پلمي (تدبیرونه) جوړي کړي او خلق په خپلو خبرو اترو سره له ښو کارونو څخه بیزاره او بدو کارونو ته ئې تیار کړي، د پیسو لګولو په اصلي ځایونو کښې خپل موټی کلک نیسي. مطلب دا چه دوی کلمه وایي لیکن نه د دوی له ژبې چاته څه خیر او ښیګڼه رسیږي او نه له ماله. هر کله چه دوی د الله تعالیٰ جل جلاله لاره داسي پرې ایښې ده نو پاک الله جل جلاله هم دوی پرې ایښي دي، د دغو پرېښودلو څخه وروسته دا چه دوی چیرې غورځول کیږي د هغه ذکر په وروستني آیت کښې راځي.

وَعَدَ اللّٰهُ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْكُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ هِيَ حَسْبُهُمْ ۚ وَلَعَنَهُمُ اللّٰهُ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ﴿٦٨﴾ۙ

وعده کړې ده الله له منافقانو سړيو سره او له منافقاتو ښځو سره او له (ټولو) کفارو سره اور د دوزخ تل به وي (دوی) په دغه (دوزخ) کښې هم دغه دوزخ بس دی دوی ته (د عذاب او سزا له مخې)؛ او لعنت کړی دی په دوی الله او مقرر دی دوی ته عذاب تل مدام (برقرار پاتې کېدونکی).

**تفسير:** يعنې دغه داسې يوه کافي سزا ده چه وروسته له هغه بلې کومې سزا ته هيڅ ضرورت نه پاتې کيږي (لعنهم الله) ښايي چه مطلب ئې داسې وي چه په دنيا کښې به هم د الله تعالیٰ جل جلاله د لعنت اثر دوی ته برابر رسيږي يا به دغه جمله د پخوانې جملې تاکيد وي والله اعلم.

كَالَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ كَانُوٓا۟ أَشَدَّ مِنكُمْ قُوَّةً وَأَكْثَرَ أَمْوَٰلًا وَأَوْلَٰدًا فَٱسْتَمْتَعُوا۟ بِخَلَٰقِهِمْ

(تاسې ای منافقانو) په شان د هغو کسانو يئ چه پخوا له تاسې ځنې وو؛ وو هغوی سخت له تاسې له جهته د زوره او زيات له جهته د مالونو او اولادونو؛ نو نفع واخيسته دوی په برخې خپلې (له دنيوی لذتونو)

**تفسير:** يعنې د دنيوی خوندونو کومه برخه چه د دوی له پاره مقدره وه له هغې څخه ئې ګټه (فائده) او د عاقبت هيڅ يو خيال او فکر ئې ونه کړ.

فَٱسْتَمْتَعْتُم بِخَلَٰقِكُمْ كَمَا ٱسْتَمْتَعَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُم بِخَلَٰقِهِمْ وَخُضْتُمْ كَٱلَّذِى خَاضُوٓا۟

نو ګټه (فائده) واخيسته تاسې په برخې خپلې لکه چه ګټه (فائده) آخيستې وه هغو کسانو چه پخوا وو له تاسې څخه په برخې خپلې سره او ډوب شوی تاسې په باطلو کښې په شان د هغو کسانو چه ډوب شوی وو په باطلو کښې پخوا له تاسې

**تفسير:** يعنې تاسې هم لکه هغوی د عاقبت له تصوره غافل شوی يئ! او له فانې متاع څخه خومره برخه چه ستاسې دپاره مقدره ده همغه دررسيږي او ستاسې ټول کارونه بيخي د هغوی په

شان دی، نو ښه وپوهیږئ چه ستاسی حشر هم د هغوی په شان دی. له هغوی سره مال، اولاد او جسمانی قوتونه له تاسی څخه زيات ؤ خو سره له هغه هم د الله تعالیٰ جل جلاله د انتقام او نیونی څخه ئی ځان ونشو ژغورلی(ساتلی) ، نو تاسی پر کوم شی باندی ډادینه او اطمینان لرئ چه په داسی اندازه د الله تعالیٰ جل جلاله له سزا او پوښتنی څخه بی پروا ناست یئ؟.

أُوْلَٰٓئِكَ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴿٦٩﴾

دغه کسان باطل (خراب محو) شو عملونه د دوی په دنیا او آخرت کښی او دغه کسان هم دوی دی زیانکاران (یا دوی هم دغه بی برخی دی له هره بابه).

**تفسیر:** یعنی هیڅ یو دنیوی او اخروی برکت او کرامت د هغوی په برخه نشو، باقی د دنیوی لذتونو هغه حصه چه ظاهراً د هغوی په برخه شوه هغه فی الحقیقت د دوی په حق کښی استدراج او عذاب ؤ لکه چه دوه رکوع پرومبی په (٥٤) آیت کښی د (فلا تعجبک اموالهم ولا اولادهم) په تفسیر کښی تیر شو او له هغه څخه پخوا هم په څو نورو ځایونو کښی هم لیکلی شوی دی.

أَلَمۡ يَأۡتِهِمۡ نَبَأُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ قَوۡمِ نُوحٖ وَعَادٖ وَثَمُودَ وَقَوۡمِ إِبۡرَٰهِيمَ وَأَصۡحَٰبِ مَدۡيَنَ وَٱلۡمُؤۡتَفِكَٰتِۚ

آیا نه دی راغلی دوی ته خبر (د عذاب د) هغو کسانو چه پخوا وو له دوی نه قوم د نوح او عاد او ثمود. او قوم د ابراهیم او خښتنان د (ښار د) مدین او چپه شوو آړول شوو کلیو (د لوط)؛

**تفسیر:** د نوح علیه السلام قوم په طوفان، د (عاد) قوم په صرصر باد (سیلئ) د (ثمود) قوم په صیحه (غیبی چغه) هلاک شول، الله تعالیٰ جل جلاله د حضرت ابراهیم علیه السلام تائید په عجیب او غریب ډول (طریقه) وفرمایه چه د هغه په لیدلو سره د هغه قوم ذلیل او ناکام شو، د دوی باچا (نمرود) په ډیر بد حال او خراب مرګ سره وواژه شو، د مدین د ښار اصحاب په صیحه او زلزله او نورو سره تباه شول، د لوط علیه السلام د قوم کلی بیخی په بل مخ واړول شول او د کانو باران پری وشو. د دغو ګردو (ټولو) اقوامو قصی بی د ابراهیم علیه السلام له قومه د

الاعراف په سورت کښې تيرې شوې دي.

أَتَتْهُمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ ۖ فَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَٰكِن كَانُوا أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ۝٧٠

چه راوړې وې دوی ته رسولانو د دوی ښکاره معجزې (نو تکذيب وکړ دوی د رسولانو، نو هلاک شول) نو نه ؤ الله چه ظلم به ئې کاوه په دوی وليکن وو دوی چه په ځانونو خپلو به ئې ظلم کاوه (په کفر او تکذيب سره).

**تفسير:** يعنې الله تعالىٰ جل جلاله هيچا ته بې سببه او بې ځايه سزا نه ورکوي، دغه خلق په خپله په داسې ګناهونو بوخت (مشغول) او لګيا دي چه د هغو په اثر پر دوی د الله تعالىٰ جل جلاله د عذاب راتلل ضروري دي.

وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ
بَعْضٍ ۚ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ
وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَيُطِيعُونَ اللَّهَ
وَرَسُولَهُ ۚ أُولَٰئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللَّهُ ۗ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ۝٧١

او سړي مؤمنان او ښځې مؤمنانې ځينې د دوی دوستان دي د ځينو نورو (او په ايمان کښې تول سره يو شان دي) حکم کوي دوی په نيکيو (چه د الله او د رسول الله اطاعت دي) او منع کوي له بديو چه (د الله او د رسول الله نه مخالفت دي) او دروي (له تولو حقوقو سره سم ادا کوي) لمونځ او ورکوي دوی زکات او حکم مني د الله او (حکم مني) د رسول الله دغه کسان ژر به رحم وکړي په دوی الله؛ بيشکه چه الله ښه غالب قوي دی (د حکمونو په جاري کولو کښې) ښه د حکمت خاوند (چه هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي).

**تفسیر:** د دغی رکوع په سر کښې د منافقانو صفتونه بیان شوی وو، دلته د مقابلې په دول (طریقه) د مؤمنانو د صفتونو ذکر هم وکړی شو یعنی منافقان خلق له نیکۍ څخه منع کوی، او د بدی په لوری ترغیب ورکوی او مومنان خلق له بدی نه ژغوری (بچ کوی) او د نیکی په لوری ئې تشویق کوی د منافقانو موټی کلک دی او د مومنانو لاسونه پرانیستی دی. منافقان د شومتیا له امله (وجې) خپل مال نه لګوی او مومنان د الله تعالیٰ جل جلاله له حکمه سره سم د خپلو مالونو څخه زکات، صدقې او خیرات ورکوی، له منافقانو څخه بیخی الله تعالیٰ جل جلاله هیر دی ولې مومنان هره ورځ پنځه وخته لمونځ کوی او په ټولو معاملو کښې د الله تعالیٰ جل جلاله او د رسول الله صلی علیه وسلم له حکمونو سره سم تګ کوی، نو ځکه منافقان د الله تعالیٰ جل جلاله د عذاب او د لعنت مستحقان شول او مومنان د پاک خدای جل جلاله د ثواب او خصوصی رحمت وړ (لائق) او مستحق وګرځیدل.

---

وَعَدَ اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً فِيْ جَنّٰتِ عَدْنٍ ۭ وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ اَكْبَرُ ۭ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۷۲﴾

---

وعده کړی ده الله له نارینه ؤ مؤمنانو او له ښځو مؤمناتو سره د جنتونو چه بهیږی له لاندی (د مانیو او ونو) د هغو (څلور قسمه) ویالې تل به وی دوی په دغو (جنتونو) کښې او (وعده کړی ده الله) د ځایونو پاکو (چه ثابت دی) په جنتونو د تل اوسیدلو کښې؛ او رضاء له (جانبه د) الله ډیره لویه ده (له جنتونو او نعمتونو او نورو څخه)؛ دغه (رضاء د الله) هم دغه بری دی ډیر لوی.

---

**تفسیر:** یعنی د ټولو دنیوی او اخروی نعمتونو څخه ډیر لوی نعمت د الله تعالیٰ جل جلاله رضاء او خوښی ده جنت هم له هم دی امله (وجې) غواړی چه هغه د الله تعالیٰ جل جلاله د رضاء مقام دی. او حق سبحانه وتعالیٰ جل جلاله به په جنت کښې مومنانو ته هر دول (طریقه) جسمانی او روحانی نعمتونه او خوشالی ورکوی مګر د ټولو څخه لوی نعمت به د حقیقی محبوب دائمی رضاء وی. په صحیح حدیث کښې راغلی دی چه حق تعالیٰ جل جلاله به جنتیانو ته غږ کوی چه (ای جنتیانو!) جنتیان به په ځواب کښې عرض وکړی (لبیک) بیا به پوښتنه وکړی چه (هل رضیتم - آیا اوس خوښ شوی یئ؟) جنتیان به داسی عرض کوی (ای پروردګاره! ولی به نه یو خوشاله حال دا چه تا خپل انتهائی انعام او مهربانی پر مونږ کړی ده) بیا به داسی پوښتنه وشی

(هل اعطیتم افضل من ذلک؟ ـ هر هغه شیان چه تر اوسه پوری تاسی ته درکړی شوی دی آیا د هغو څخه د بل کوم ښه شي د مونډلو اراده او غوښتنه لرئ؟) جنتیان به سوال وکړی چه (یاالله جل جلاله له دغو نعمتونو او مهربانیو څخه به بل کوم غوره، اعلیٰ او خورا (ډیر) ښه نعمت وی؟) دلته به الله تعالیٰ جل جلاله فرمائی ـ (احل علیکم رضوانی فلا اسخط علیکم بعده ابدا ـ خپله دائمی رضاء او خوښی تاسی ته درلیږم چه له هغه وروسته به هیڅ خفګان او ناخوښی نه وی.

**رزقنا الله وسائر المؤمنین هذه الکرامة العظیمة الباهرة**

**یٰٓاَیُّهَا النَّبِیُّ جَاهِدِ الْکُفَّارَ وَالْمُنٰفِقِیْنَ وَاغْلُظْ عَلَیْهِمْ ؕ وَمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ وَبِئْسَ الْمَصِیْرُ ﴿۷۳﴾**

ای نبی (محمده!) جهاد کوه ته له کفارو سره (په توره) او له منافقانو سره (په حجت او اقامت د حدودو) او سختی کوه پر دوی؛ او (آخری) ځای د ورتلو د دوی دوزخ دی؛ او بد ځای د بیرته ورتلو دی (دا دوزخ).

**تفسیر:** د (جهاد) معنی د کوم ناکاره شي په دفع کولو کښی انتهائی کوښښ کول دی، دغه کوښښ کله په وسله، کله په ژبه، کله په قلم او کله په بله کومه طریقه وی. د منافقانو مقابل کښی (چه په ژبه د اسلام اظهار کوی او له زړه مسلمانان نه دی) د محمدی امت د جمهورو په نزد (جهاد بالسیف) مشروع نه دی او نه د نبوت په زمانه کښی داسی واقع شوی دی.
نو ځکه د جهاد لفظ په دغه آیت کښی عام دی. یعنی په توره، په قلم، په ژبه، په هر وخت، په هر ډول (طریقه) مقابلی سره چه مصلحت وی، جهاد دی وشي! د ځینو علماؤ دا رایه ده که د منافقانو نفاق بیخی ښکاره او عیان شي نو پر دوی باندی هم (بالسیف) جهاد کیدی شي. په هر حال څرنګه چه د ـ تبوک په غزا کښی د منافقانو نفاق بیخی ښکاره شوی ؤ نو ځکه په دغه آیت کښی د دوی سره د لږی سختی رویی غوره کولو هدایت ورکړی شوی دی زمونږ نبی کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم فطرتاً ډیر حلیم او خورا (ډیر) نرم خویه او مهربان ؤ لکه چه په خپله پاک الله جل جلاله فرمایی ﴿ فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ لِنْتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِیْظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوْا مِنْ حَوْلِكَ ﴾
(٤ جزء د آل عمران (١٥٩) آیت (١٧ رکوع) د الله تعالیٰ له جانبه پری
حکم شوی ؤ «واخفض جناحک لمن اتبعک من المؤمنین (١٩ جزء د الشعراء (٢١٥ آیت ١١ رکوع»

څرنگه چه منافقان هم په ښکاره د مؤمنانو په ډله کښې شامل وو. نو ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم هم د هغوی له کارونو څخه اغماض او عفوه کوله او ورنه تیریده او نرمی به ئې ور سره کوله (د تبوک) په غزا کښې کله چه منافقانو په پوره ښکاره ډول (طریقه) سره بیحیائی، عناد، عداوت او دښمنی اختیار کړه نو داسې حکم وشو چه اوس د منافقانو په مقابل کښې سختي اختیار کړئ! ځکه چه دغه شریر خلق په ښو اخلاقو او نرمی سره په لاره نه راځی.

يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ مَا قَالُوا
وَلَقَدْ قَالُوا كَلِمَةَ الْكُفْرِ وَكَفَرُوا بَعْدَ إِسْلَامِهِمْ وَهَمُّوا
بِمَا لَمْ يَنَالُوا ۚ وَمَا نَقَمُوا إِلَّا أَنْ أَغْنَاهُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ
مِنْ فَضْلِهِ ۚ فَإِنْ يَتُوبُوا يَكُ خَيْرًا لَهُمْ ۖ وَإِنْ يَتَوَلَّوْا
يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ عَذَابًا أَلِيمًا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ۚ وَمَا لَهُمْ
فِي الْأَرْضِ مِنْ وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿٧٤﴾

قسمونه خوری دوی په الله باندی چه نه دی ویلی دوی (دا خبری چه تاته دررسیدلی دی) او خامخا په تحقیق ویلی وو دوی کلمه (الفاظ) د کفر او کافران شوی دی دوی (ظاهراً هم) وروسته له (اظهار د) اسلام خپل او قصد ئې کړی ؤ د هغه شي چه ور ونه رسیدل دوی (هغه ته). او عیب نه لګاوه دوی (په الله او رسول الله) مګر له دی جهته چه غنیان کړل دوی الله او رسول د الله له فضله خپله؛ نو که توبه وویسته دوی (له دغه نفاقه) نو وی به (دغه توبه غوره) خیر دوی ته، او که بیرته وګرځی دوی (له توبی) نو عذاب به ورکړی دوی ته الله په عذاب دردناک سره په دنیا کښې (په وژلو) او په آخرت کښې (په سوځولو سره)؛ حال دا چه نه به وی دوی ته په (تمامه) ځمکه کښې هیڅ ولی (دوست ساتونکی له بلاګانو) او نه مددګار (خلاصوونکی له عذابونو څخه).

تفسیر: منافقانو به پسی شا په خپلو منځونو کښې یو تر بله د نبی کریم صلی الله علیه وسلم او د اسلامی دین سپکاوی کاوه لکه چه د (المنافقون) په سورت کښې به راشی کله چه کوم مسلمان د منافقانو دغه خبری رسول الله صلی الله علیه وسلم ته رسولی نو منافقانو به هغه دروغجن ګڼه او

قسمونه به ئی خوړل چه مونږ داسی خبری نه دی کړی الله تعالیٰ جل جلاله د مسلمانانو د روایتونو تصدیق وکړ چه بیشکه منافقانو هم داسی خبری کړی دی او د اسلام له دعوی څخه وروسته ئی هم داسی کلمی د اسلام او د اسلام د نبی صلی الله علیه وسلم په نسبت ویلی دی چه داسی وینا یوازی د هم دغو منکرانو له خولو څخه راوتلی شی.

« و هموابمالم ینالوا » ـ او قصد ئی کړی ؤ د هغه شی چه ور ونه رسیدل دوی هغه ته) یعنی د (تبوک) د غزا څخه د بیرته راتللو په وخت کښی حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم له لښکره بیل شوی ؤ او په هغه لاره تلو چه په غره کښی تیره شوی وه، تقریباً دولسو تنو منافقانو خپل اربوزونه (مخونه) ترلی وو، د شپی په تیاره کښی ئی غوښتل چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته لاس واچوی او معاذ الله محمد صلی الله علیه وسلم له کومی لوړی څخه ژوری ته وغورځوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره حذیفه او عمار رضی الله تعالیٰ عنهما وو منافقان د عمار نه چپ چاپیره شول، مگر حذیفه په وهلو وهلو د منافقانو د اوښانو مخونه بل لوری ته واړول. څرنگه چه د هغو مخونه پټ وو، حذیفه رضی الله تعالیٰ عنه او نورو هغوی ونه پیژندل وروسته رسول الله حذیفه او عمار رضی الله تعالیٰ عنهما ته د هغوی تولو نومونه او شهرتونه وروښودل او پوره ئی ورمعرفی کړی. مگر تاکید ئی وکړ چه دا حال چاته مه وایئ، د دغی واقعی په لوری په (و هموا بمالم ینالوا) کښی اشاره ده چه هغه ناپاک قصد چه هغو کړی ؤ د الله تعالیٰ جل جلاله په فضل او مرحمت سره سر ته ونه رسید، ځینو علماؤ لیکلی دی چه په یو ځای کښی د اسلامی لښکرو په منځ کښی څه کورنی جګړه او جنگ نښتی ؤ منافقانو دلته په شیطانی او اغواء باندی لاسونه پوری کړل او غوښتل ئی چه د انصارو او مهاجرینو په منځ کښی د نفاق او اختلاف په اچولو کښی کوښښ وکړی ولی ناکامه پاتی شول او رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغو په منځ کښی جوړه وکړه لکه چه د (المنافقون) په سورت کښی ئی تفصیل راځی.

﴿وَمَانَقَمُوٓا﴾ الآیة ـ او عیب نه لگاوه دوی په الله او رسول الله صلی الله علیه وسلم مگر له دی جهته) یعنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دعا په برکت الله تعالیٰ دوی بدایان (مالدار) کړل. د پور له باره ئی اوړی سپکی شوی، مسلمانانو سره د ناستی او ولاړی له امله (وجی) په ولجو (غینمت) کښی د حصو او برخو خاوندان شول او د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د دعا په برکت د دوی حاصلات او پیداوار ښه شوی وو نو دوی د دغو نعمتونو په بدله کښی له الله تعالیٰ جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره، چل، فریب او تگی کوله او په هر ډول (طریقه) د رسول الله صلی الله علیه وسلم او مسلمانانو ربړولو (تکلیفولو) ته ئی ملاوی تړلی وی نو که دوی اوس هم توبه وباسی او له خپلو شرارتونو او احسان هیرولو څخه لاس واخلی نو دغه کار به د دوی په حق کښی ډیر ښه وی که نه الله تعالیٰ جل جلاله به په دنیا او عقبا کښی دوی ته داسی سزا ورکړی چه د ځمکی په مخ به هیڅوک نه مونډل کیږی چه له هغی څخه دوی خلاص کړی. په ځینو روایتونو کښی راغلی دی چه (جلاس) نومی یو سړی د دغو آیتونو د اوریدلو په اثر د زړه له اخلاصه توبه وویستله او خپل پاتی ژوند ئی له اسلامه جار کړ.

وَمِنْهُم مَّنْ عَٰهَدَ ٱللَّهَ لَئِنْ
ءَاتَىٰنَا مِن فَضْلِهِۦ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٧٥﴾
فَلَمَّآ ءَاتَىٰهُم مِّن فَضْلِهِۦ بَخِلُوا۟ بِهِۦ وَتَوَلَّوا۟ وَّهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٧٦﴾

---

او ځینی له دغو (منافقانو) څخه هغه دی چه عهد ئی کړی ؤ له الله سره قسم دی چه خامخا که راکړی (الله) مونږ ته (مال) له فضله خپله نو خامخا خیراتونه به ورکوو هرومرو (خامخا) (زکوٰة به تری باسو) او خامخا به شو مونږ هرومرو (خامخا) له صالحانو څخه نو کله چه ورکړ (الله) دوی ته (مال) له فضله خپله نو بخل ئی اختیار کړ په هغه (مال) او بیرته وګرځیدل دوی حال دا چه دوی څنګ کوونکی ؤ (له حقه).

---

**تفسیر: (ثعلبه بن حاطب)** نومی انصاری د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حضور کښی عرض وکړ چه (یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! زما په حق کښی دعا وکړئ چه مالدار او شتمن شم!) رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل (ای ثعلبه! هغه لږ شی چه ته پری د الله تعالیٰ شکر اداء کړی ښه دی له هغه ډیر شی څخه چه ته د هغه حقوق اداء نشی کړی) ده بیا همغسی غوښتنه وکره، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل (آیا ته دا نه خوښوی چه زما د سنت او د عمل طریقه غوره کړی؟) څومره چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم دی منع کاؤ د ده تینګار (ضد) لا زیاتیده او وعده ئی وکره (که الله تعالیٰ جل جلاله ما د مال او د شتو خاوند کړی. نو زه به د هغو پوره حقوق اداء کوم) بالاخر رسول الله صلی الله علیه وسلم د ده په حق کښی دعا وکره چه د هغی په اثر د ده په بیزو کښی دومره برکت او کثرت پیدا شو چه دی د خپلو ډیرو رمو له امله (وجی) له مدینی منوری څخه د باندی ووت او په یوه کلی کښی ئی هستوګنه غوره کره او د ډیرو مالونو او شتو له امله (وجی) دومره مصروف او مشغول شو چه ورو ورو ئی د جومی او جمعی لمونځونه پریښودل، څو ورځی وروسته د رسول الله صلی الله علیه وسلم له خوا د زکات اخیستلو عامل ورغی نو ده وویل چه (زکات خو د جزیی خور ښکاری) یو دوه ځلی ئی نن او سبا وویل او بهانه به ئی کوله بالاخر ئی د زکات له اداء څخه په صاف دول (طریقه) سره انکار وکړ. رسول الله صلی الله علیه وسلم د دی وضعیت (حالت) په مقابل کښی دری ځلی (ویح ثعلبه) وفرمایل او دغه آیتونه نازل شول کله چه د ده ځینو خپلوانو ده ته دغه خبر ورساوه نو هغه نازره، سره له زکوٰته ورحاضر شو، خو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل «زه الله تعالیٰ جل جلاله ستا د زکات له قبلولو نه منع کړی یم!» ده د دی خبری په اوریدلو په شور ماشور او ژړا او واویلا

شروع وکړه ځکه چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له لوری د ده د زکات نه قبلیدل، د لوی عیب، عار، شرم او د ننګ خبره وه (ثعلبه) د بدنامی له امله (وجی) په خپل سر باندی خاوری بادولی مګر په زړه کښی ئی نفاق پټ ؤ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رد کولو نه وروسته، دی سره له زکاته حضرت ابی بکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه ته ورغی. صدیق اکبر رضی الله تعالیٰ عنه هم د هغه له قبلولو انکار وکړ، بیا د حضرت عمر فاروق رضی الله تعالیٰ عنه او د حضرت عثمان ذی النورین رضی الله تعالیٰ عنه حضور ته هم ورغی مګر دوی هم د ده د زکات له قبلولو انکار وکړ او هر یوه به هم داسی ویل (هغه شی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له حضوره مردود شوی وی مونږ له سره هغه نشو قبلولی) بالاخر (ثعلبه) د هم دی نفاق په حالت کښی د حضرت عثمان رضی الله تعالیٰ عنه په خلافت کښی مړ شو.

فَأَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِي قُلُوبِهِمْ إِلَىٰ يَوْمِ يَلْقَوْنَهُ بِمَا أَخْلَفُوا اللَّهَ مَا وَعَدُوهُ وَبِمَا كَانُوا يَكْذِبُونَ ﴿٧٧﴾

پس وګرځاوه (الله) عاقبت (د فعل) د دوی نفاق په زړونو د دوی کښی (چه هیڅ به لری نشی) تر (هغی) ورځی پوری چه یو ځای کیږی به له الله سره (په قیامت کښی) په سبب د هغه چه مخالفت کړی ؤ دوی له الله د هغی خبری چه وعده کړی وه دوی له الله سره او په سبب د دی چه وو دوی چه دروغ به ئی ویل.

**تفسیر:** یعنی له الله تعالیٰ جل جلاله سره د څرګندی وعده خلافی او دروغ ویلو په سبب د دوی د بخل او اعراض اثر داسی شو چه د تل له پاره د نفاق ونه، د دوی په زړونو کښی قایمه شوه او تر مرګه پوری لری کیدونکی نه ده او د خدای جل جلاله عادت په دی جاری دی چه که کوم سړی بنه یا بد خصلت ځان ته غوره کوی نو د بیا بیا کولو له امله (وجی) هغه دایمی ګرځی. د خراب خصلت له دغه دوام او استحکام څخه کله کله په ختم او طبع (مهر لګولو) سره تعبیر کیږی.

أَلَمْ يَعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ سِرَّهُمْ وَنَجْوَاهُمْ وَأَنَّ اللَّهَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ ﴿٧٨﴾

آيا نه دي پوهيدلي دغه (وعده خلافان) چه بيشکه الله عالم دی په پټو (نيتونو) د دوی او په پټو مجلسونو د دوی او (نه دي پوهيدلي دوی په دی خبره چه) بيشکه الله ښه عالم دی په ټولو پټو (خبرو هم).

**تفسير:** يعنی هر قسم وعدي چه وکړی او هر ډول (طريقه) خبری چه جوړی کړی يا د مجبوريت له امله (وجی) مال ورانډی کړی، الله تعالیٰ جل جلاله د دوی په ارادو او نيتونو باندی ښه پوهيږی! او له خپلو ملګرو سره کومه مرکه، جرګه او مشوره چه کوی پر هغو باندی په ښه صورت سره خبر دی الله تعالیٰ جل جلاله ته ښه معلوم دی چه د (لنصدقن و لنکونن من الصالحين) وعده او بيا په ويره سره د زکات ورانډی کول په کوم قصد، اراده نيت او زړه سره وو.

الَّذِينَ يَلْمِزُونَ الْمُطَّوِّعِينَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ فِي الصَّدَقَاتِ وَالَّذِينَ لَا يَجِدُونَ إِلَّا جُهْدَهُمْ فَيَسْخَرُونَ مِنْهُمْ سَخِرَ اللَّهُ مِنْهُمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٩﴾

هغه منافقان چه عيب وائی په (ډيرو) خيرات کوونکو باندی له مؤمنانو په (اداء د) صدقاتو کښی او (بل) د هغو (بی وزلو عيب وائی) چه هيڅ نه مومی دوی مګر په قدر د وس (او زيار (کوشش) خپل پس مسخری کوی دغه (منافقان) په دوی پوری؛ سزا به ورکړی الله دوی ته (د مسخرو). او شته دوی ته عذاب دردناک.

**تفسير:** يو ځلی رسول اکرم صلی الله عليه وسلم مسلمانانو ته د صدقی ورکولو په نسبت ترغيب ورکړ «چه په دغو صدقاتو د تبوک د لويی غزا تياری وکړی، حضرت ابوبکر صديق رضی الله تعالیٰ عنه هر څه چه په کاله کښی موندل هغه ټول ورکړل، حضرت عمر فاروق رضی الله تعالیٰ عنه خپل نيمايی مال ورکړ، حضرت جامع القرآن عثمان رضی الله تعالیٰ عنه دری سوه اوښان له بارونو سره ورکړل، حضرت علی مرتضیٰ رضی الله تعالیٰ عنه زر اشرفی ورکړی، حضرت عبد الرحمن بن عوف رضی الله تعالیٰ عنه څلور زره درهم (يا دينار) ورکړل. عاصم بن عدی رضی الله تعالیٰ عنه سل وسقه خرما (چه قيمت ئی څلور زره درهم کيده) ورکړی.» نو منافقانو د دغو صدقی ورکونکو بد ويل شروع کړل او ويل به ئی چه دغو نوموړو معظمو اصحابو دغه ډيری روپی او زيات مال په ريا او ځان ښودنی ورکړی دی او يو غريب مفلس صحابی ابو عقيل حبحاب چه

په خواری او مزدوری او مشقت سره به ئی لږ شی ګټل یوه پیمانه خرما صدقه کړه، نو منافقانو پر ده باندی خندل او ملندی به ئی پری وهلی چه دی خامخا په زور سره خپل ځان ښیی او ځان په وینو لړلو شهیدانو کښی داخلوی که نه یوی پیمانی خرماؤ ته د الله تعالیٰ جل جلاله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم څه احتیاج؟ خو نوم ئی کاوه. مطلب دا چه لږ او ډیر شی ورکوونکی دواړه د دوی له ژبو څخه نه ؤ خلاص. ځینو ته به ئی پیغورونه ورکول او په ځینو به ئی مسخری کولی. نو الله تعالیٰ جل جلاله وفرمایل «سخر الله منهم» ـ الله تعالیٰ جل جلاله به د دی پیغورونو او مسخرو سزا ورکړی) که څه هم ظاهراً دوی خو ورځی د توکو، مسخرو او ملندو (توقو) له پاره آزاد پریښودلی شوی وو، خو په حقیقت کښی په پټه کښی د دوی د امن او هوسایی (ارام) تولی ریښی او رګونه پری کیږی او دوی ته ډیر دردناک عذاب تیار دی.

اسْتَغْفِرْ لَهُمْ أَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ إِن تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً فَلَن يَغْفِرَ اللَّهُ لَهُمْ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ ﴿٨٠﴾

ښښنه وغواړه دپاره د دغو(منافقانو) یا مه غواړه ښښنه (دپاره د دغو (منافقانو)؛ که ښښنه وغواړی ته دوی ته اویا کرته نو له سره به ښښنه ونه کړی الله دوی ته؛ دغه (نه ښښل) په سبب د دی دی چه بیشکه دوی کافران شوی دی په الله او په رسول د الله؛ او الله نه ښیی سمه صافه لاره قوم فاسقانو ته.

**تفسیر:** یعنی د منافقانو له پاره چه تاسی هر څومره استغفار او ښښنه وغواړئ هغه د دوی په حق کښی بیخی بی اثره او بی فائدی ده الله تعالیٰ جل جلاله دا بدبخته کافران او نافرمانان هیڅکله نه ښښی. دا پیښه داسی وشوه چه په مدینه منوره کښی د منافقانو رئیس عبدالله ابن ابی مړ شو، رسول الله صلی الله علیه وسلم د کفن دپاره خپل مبارک کمیس ورکړ او د خپلی خولی مبارکی لاړی ئی په خوله کښی ورواچولی او د ده د جنازی لمونځ ئی اداء کړ او د مغفرت دعا ئی ورته وکړه، حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه په دغه معامله کښی مداخله او مخالفت وکړ او وی ویل چه یا رسول الله صلی الله علیه وسلم دا خو همغه خبیث دی چه په هغه او دغه وخت کښی ئی دغسی او هغسی ناولی کارونه کړی وو او تل د کفر او نفاق مشر او بیرغ پورته کوونکی ؤ، آیا الله تعالیٰ جل جلاله نه دی فرمایلی ﴿اسْتَغْفِرْ لَهُمْ أَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ إِن تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً فَلَن يَغْفِرَ اللَّهُ لَهُمْ﴾ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل «ای عمره! زه له استغفاره نه

یم منع شوی بلکه آزاد پریښودل شوی یم چه ښځنه وغواړم یا ونه غواړم او دغه د الله تعالیٰ جل جلاله کار دی چه ښځنه ورته کوی که ئی نه کوی یعنی که زما استغفار هغه ته گټه (فائده) ونه کړی نو ودی نه کړی ښایی چه زما دا کار د نورو په حق کښې گټور ثابت شی. که د اسلام لوی دښمنان د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ښو اخلاقو وسعت او عام رحمت ووینی نو مسلمانان به شی لکه چه هم داسی هم وشول. د صحیح بخاری شریف په یو روایت رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی (که زه پوهیدی چه په اویا ځلی استغفار سره هغه ته ښځنه کیدلی نو ما به له اویا ځلی څخه هم زیات استغفار ورته غوښتلی وی) گواکی په دغی جملی سره رسول الله صلی الله علیه وسلم تنبیه وفرمایله چه د حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه په شان ده هم هغه ته خپل استغفار گټور نه گڼانه یوازی دومره قدری فرق شته چه د حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه نظر یوازی د (بغض فی الله) له کبله (وجی) په هم دغی نه ښځنی پوری مقصور ؤ مگر نبی کریم صلی الله علیه وسلم د مړی د گټی (فائدی) څخه صرف نظر کړی د نبوت د عمومی شفقت اظهار او د ژوند یو فائده ئی په نظر کښې نیولی وه بالاخر د الله تعالیٰ وحی «ولا تصل علیٰ احد منهم مات ابدا ولا تقم علیٰ قبره» په تصریح سره د منافقانو د جنازی کولو یا د دوی په تکفین، تدفین او تجهیز کښې له برخی اخیستلو څخه ئی منع کړ، ځکه چه له دغه وضعیت (حالت) څخه د منافقانو د لا زړور کیدلو او د مسلمانانو د زړونو د ماتیدلو احتمال ؤ، نو د دی آیت له نزوله وروسته بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم د هیڅ یو منافق جنازه اداء نه کړه.

---

فَرِحَ الْمُخَلَّفُونَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلَافَ رَسُولِ اللَّهِ وَكَرِهُوا أَنْ يُجَاهِدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَقَالُوا لَا تَنْفِرُوا فِي الْحَرِّ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا لَوْ كَانُوا يَفْقَهُونَ ﴿٨١﴾

---

خوشاله شوی وو بیرته پاتی شوی (له غزا د خپل نفاق له امله (وجی) په کیناستو خپلو بیرته له رسول د الله څخه او بده گڼله دوی دا چه جهاد وکړی دوی په مالونو خپلو او په ځانونو خپلو په لاره د الله کښې او ویل به دوی (یخپلو منځونو کښې یا مؤمنانو ته) چه مه ځئ تاسی (د تبوک دی غزا ته) په دغی گرمی کښې ووایه (ای محمده ! دوی ته) چه اور د دوزخ ډیر سخت دی له جهته د گرمی (دوی ته له دی حرارته) که وی دوی چه پوهیدی (نو نافرمانی به ئی نه وه کړی)

---

**تفسیر:** دا د هغو منافقانو په متعلق دی چه د (تبوک) په غزا کښې ئی گډون نه ؤ کړی یعنی د

منافقانو دغه حال چه د بدو او عیب جنو کارونو په کولو خوښیږی او له ښو کارونو څخه کرکه کوی او لری تری تښتی لکه چه زیاتره ښو خلقو ته پیغورونه ورکوی او مسخری پری کوی،
دغسی قوم ته د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له استغفاره څه گټه (فائده) رسیدی شی؟ له دی ځایه د گنهګارو او بد اعتقادو په منځ کښی فرق پیدا کیږی.
داسی هیڅ یوه گناه نشته چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په استغفار ونه بښله شی.
﴿ وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُوا أَنفُسَهُمْ جَاءُوكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللَّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُوا اللَّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا ﴾
«۵ جزء د النساء (٦٤) آیت (۹) رکوع» لیکن بد اعتقاد ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اویا ځلی استغفار څخه هم څه فائده نه ور رسیږی.
(وقالوا لا تنفروا فی الحر - او ویل به دوی په خپلو منځونو کښی مؤمنانو ته چه مه ځئ تاسی دغی غزا د تبوک ته په دغی گرمی کښی) یعنی یا منافقانو دغسی ویناوی په خپلو منځونو کښی سره کولی یا خو ئی ځینو مؤمنانو ته، څو د دوی زړونه مات او همتونه ئی سست شی.
﴿ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا لَّوْ كَانُوا يَفْقَهُونَ ﴾ - ووایه ای محمده! دوی ته چه اور د دوزخ دیر سخت دی له جهته د گرمی دوی ته له دی حرارته که وی دوی چه پوهیدی نو نافرمانی به ئی نه وه کړی) یعنی که دغو منافقانو پوهه لرلی نو داسی فکر به ئی کاوه چه دوی د هغه حرارت، تودوخی څخه ځان ژغوری (ساتی) خو د هغه په ځای د داسی حرارت په لوری ورځی چه د هغه گرمی د دی گرمی څخه دیره زیاته او نهایته سخته ده. د دغه مثال خو داسی کیدی شی چه کوم لیونی له لمره وتښتی او په اور کښی ننوځی. په مبارک حدیث کښی راغلی دی چه د دوزخ د اور حرارت د دنیا له اور څخه (۹۷) درجی زیات دی. نعوذ بالله منها.

---

فَلْيَضْحَكُوا قَلِيلًا وَلْيَبْكُوا كَثِيرًا جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿٨٢﴾

---

نو ودی خاندی دوی لږ (په دنیا کښی) او ودی ژاړی دیر (په آخرت کښی له جهته د جزاء په سبب د هغه عمل چه وو دوی چه کاوه به ئی

---

**تفسیر:** یعنی دوی دی څو ورځی په خپلو دغو حرکاتو خوښ او خوشحال اوسی! او ودی خاندی! بیا به دوی د دغو چارو په سزا کښی تل تر تله وژاړی!.

فَإِن رَّجَعَكَ ٱللَّهُ إِلَىٰ طَآئِفَةٖ مِّنۡهُمۡ فَٱسۡتَـٔۡذَنُوكَ لِلۡخُرُوجِ فَقُل لَّن تَخۡرُجُواْ مَعِيَ أَبَدٗا وَلَن تُقَٰتِلُواْ مَعِيَ عَدُوًّاۖ إِنَّكُمۡ رَضِيتُم بِٱلۡقُعُودِ أَوَّلَ مَرَّةٖ فَٱقۡعُدُواْ مَعَ ٱلۡخَٰلِفِينَ ﴿٨٣﴾

نو كه بيرته راوستى ته الله (مدينى ته) يوى طايفى ته له دغو وروسته پاتى شو يو خلقو څخه (چه منافقان دى) نو بيا اجازه وغواړى دوى له تا څخه د وتلو (بلى غزا ته) نو ووايه (اى محمده! دوى ته) چه له سره به ونه وځئ تاسى له ما سره هيڅكله (هيچيرى جنگ ته) او له سره به ونه جنگيږئ په ملگرتيا زما د هيڅ دښمن سره؛ بيشكه چه تاسى راضى شوى يئ په كيناستو (او بيرته پاتى كيدلو) اول وارى (په غزا د تبوك كښى) نو بيا ناست اوسئ تاسى سره د بيرته پاتى شويو (ښځو او هلكانو)

**تفسير:** رسول الله صلى الله عليه وسلم په (تبوک) كښى او منافقان په مدينه منوره كښى وو ممكن ؤ چه ځينى منافقان د رسول الله صلى الله عليه وسلم له راتگه پخوا مړه شى نو ځكه ئى «الى طائفة منهم» وفرمايل يعنى كه اوس دغه منافقان بلى كومى غزا ته د تلو اجازه وغواړى نو ته دوى ته داسى ووايه بس دى ستاسى ميرانه (بهادرى) او توره ښه راڅرگنده شوه او ستاسى د زړونو حال لا ړومبى له دى ښكاره شوى دى نو وروسته تر دى له موږه سره وتلى نشئ! او نه د اسلام د دښمنانو په مقابل كښى څه ميرانه (بهادرى) ښوولى شئ نو د بى لاسو او بى پښو ضعيفانو او ناتوانو سپين ږيرو او هلكانو، جونو او ښځو سره په خپلو كورونو كښى كينئ او هغه شى چه اول ځلى تاسى د خپلو ځانونو له پاره غوره كړى دير ښه دى چه پر همغه حالت باندى ومرئ! څو د الله تعالىٰ جل جلاله د عذاب خوند ښه وڅكئ!.

وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰٓ أَحَدٖ مِّنۡهُم مَّاتَ أَبَدٗا وَلَا تَقُمۡ عَلَىٰ قَبۡرِهِۦٓۖ إِنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَمَاتُواْ وَهُمۡ فَٰسِقُونَ ﴿٨٤﴾

او مه كوه لمونځ (د جنازى) په هيڅ يو تن له دغو (منافقانو) چه مړ شى هيڅكله او مه دريږه په قبر د ده (د دعا، استغفار، يا د تدفين د اهتمام له

پاره) بیشکه چه دغه (منافقان) کافران شوی دی په الله (چه شرک ئی کړی دی) او په رسول د الله (چه له زړه ئی نه دی منلی) او مړه شول حال دا چه دوی فاسقان وو

**تفسیر:** دغه آیت د عبد الله ابن ابی له واقعی څخه وروسته نازل شوی دی لکه چه د هم دی سورت د (۸۰) آیت په تفسیر کښی مونږ هغه په تفصیل سره لیکلی دی. د دی آیت له نازلیدلو نه وروسته د منافقینو جنازه کول بیخی منعه شوه. حضرت عمر فاروق رضی الله تعالیٰ عنه به احتیاطاً د هغه سړی په جنازه کښی ګډون نه کاوه چه د هغه په جنازه کښی به حضرت حذیفه رضی الله تعالیٰ عنه ګډون نه ؤ کړی ځکه چه حذیفه رضی الله تعالیٰ عنه ته رسول الله صلی الله علیه وسلم د ډیرو منافقانو نومونه ورښوولی وو او ښه ورمعرفی کړی وو نو ځکه د ده لقب (صاحب سر رسول الله صلی الله علیه وسلم) ؤ.

وَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَالُهُمْ وَأَوْلَادُهُمْ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ أَنْ يُعَذِّبَهُمْ بِهَا فِي الدُّنْيَا وَتَزْهَقَ أَنْفُسُهُمْ وَهُمْ كَافِرُونَ ﴿٨٥﴾

او نه دی په تعجب کښی اچوی تا مالونه د دغو (منافقانو که څه هم ډیر وی) او اولادونه د دوی (که څه هم قوی او زورور وی) بیشکه هم دا خبره ده چه اراده لری الله د دی چه په عذاب کړی دوی په دغو (مالونو او اولادونو) په دغه دنیا (لږ خسیس ژوندن) کښی او ورځی (له بدنه ساوی) ارواح د دوی (په ډیر سختی او غم سره) حال دا چه دوی کافران وی (او په کفر ومری)

**تنبیه:** په هم دی جزء د (التوبة) په (۵۵) آیت ۷ رکوع کښی په هم دی مضمون یو بل آیت هم تیر شوی دی، دلته دی همغه تفسیر بیا وکتل شی.

وَإِذَا أُنْزِلَتْ سُورَةٌ أَنْ آمِنُوا بِاللَّهِ وَجَاهِدُوا مَعَ رَسُولِهِ اسْتَأْذَنَكَ أُولُو الطَّوْلِ مِنْهُمْ وَقَالُوا ذَرْنَا نَكُنْ مَعَ الْقَاعِدِينَ ﴿٨٦﴾

او کله چه نازل کړ شی کوم سورت په دی خبره چه ایمان راوړئ تاسی په الله او جهاد وکړئ تاسی په ملګرتوب د رسول د الله نو غواړی اجازه له تا نه (د

بیرته پاتی کیدلو) خاوندان د قدرت (د مال) له دوی او وائی دغه (منافقان) پریږده مونږ چه اوسو سره د (کور) کیناستونکو (ښځو، هلکانو)

**تفسیر:** کله چه د قرآن کریم په کوم سورت کښې خبرداری ورکول کیږی چه په پوره اخلاص او په تینګه ایمان راوړئ! ښایی د هغه پوره اثر داسی ښکاره شی چه له نبی صلی الله علیه وسلم سره یو ځای شئ! او د الله تعالیٰ په لاره کښې جهاد وکړئ! نو دغه منافقان تری ځان په څنګ کوی او په دوی کښې د توان او قدرت خاوندان هم د دروغو پلمې (تدبیرونه) او بهانې جوړوی او له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اجازه غواړی چه یا رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته اجازه راکړئ چه هم دلته په مدینه کښې پاتی شو، ګواکی د ډیری بی غیرتی او نامردی له امله (وجی) پر دغه باندی راضی شوی دی چه د جنګ یا د خطری د نامه له اوریدلو څخه لکه په پرده کښې کیناستونکو ښځو غوندی په کورونو کښې ننوځی، هر کله چه د جنګ خطر له منځه لاړ شی او د اطمینان او آرامی وخت راشی نو بیا په خبرو جوړولو کښې لکه بیاتی (قینچی) غوندی په ژبه ښورولو له تولو څخنی وړاندی وړاندی ځی ﴿ فَإِذَا جَآءَ ٱلْخَوْفُ رَأَيْتَهُمْ يَنظُرُونَ إِلَيْكَ تَدُورُ أَعْيُنُهُمْ كَٱلَّذِى يُغْشَىٰ عَلَيْهِ مِنَ ٱلْمَوْتِ ۖ فَإِذَا ذَهَبَ ٱلْخَوْفُ سَلَقُوكُم بِأَلْسِنَةٍ حِدَادٍ ﴾ (۲۱) جزء د الا حزاب (۱۹) آیت (۲) رکوع)

رَضُوا۟ بِأَن يَكُونُوا۟ مَعَ ٱلْخَوَالِفِ وَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ ﴿٨٧﴾

راضی شول په دی چه وی دوی سره له بیرته پاتی شوو (ښځو، جونو) او مهر لګولی شوی دی په زړونو د دوی (د کفر او نفاق) نو نه پوهیږی دوی (د جهاد په اجر)

**تفسیر:** یعنی د دروغو، نفاق، له غزا څخه د ځان ژغورلو (بچ کولو) او د پیغمبر څخه د بیرته پاتی کیدلو له شامته د دوی په زړونو مهر لګولی شوی دی چه اوس ډیر لوی لوی عیبونه هم هغو ته د عیب په شان نه ښکاری او د دی په ځای چه په دغه بی غیرتی وشرمیږی ناز او خوشالی پری کوی.

لَٰكِنِ ٱلرَّسُولُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ جَٰهَدُوا۟ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ ۚ وَأُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمُ

الْخَيْرٰتُ ۡ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿٨٨﴾ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ
تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿٨٩﴾

ليكن رسول (د الله) او هغه كسان چه ايمان لرونكي دي له ده سره جهاد ئې وكړ په مالونو خپلو او ځانونو خپلو؛ او دغه كسان هم دوى لره دي ښيګڼې (فائدې) او دغه كسان هم دوى دي په مراد رسيدلي (برياليان). تيار كړي دي الله دوى ته جنتونه چه بهيږي له لاندې (د مانيو او ونو) د هغو (څلور قسمه) ويالې تل به وي دوى په دغو (جنتونو) كښې؛ دغه (ننوتل د جنت) برى دى لوى (په نفس او شيطان).

**تفسير:** دلته الله تعالیٰ جل جلاله د منافقينو په مقابل كښې د مخلصينو بيان فرمايي چه وګورئ دغه دي د الله تعالیٰ جل جلاله وفادار بندګان چه د پاک الله جل جلاله په لاره كښې نه په خپل ځان اړ (ايسار) دي او نه خپل مالونه منع كوي بلكه له سر او مال دواړو تير دي او كه هر څومره سخت خطرونه موجود وي، دوى د اسلام حمايت او د رسول الله صلى الله عليه وسلم ملګرتيا كوي او هر دول (طريقه) قرباني او ځان جارولو ته حاضر او تيار وي. نو بيا كه د داسې خلقو له پاره فلاح او برى نه وي نو د چا له پاره به وي؟.

وَجَآءَ الْمُعَذِّرُوْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ لِيُؤْذَنَ لَهُمْ وَقَعَدَ الَّذِيْنَ كَذَبُوا
اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ؕ سَيُصِيْبُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٩٠﴾

او راغلل د دروغو عذر كوونكي له (صحرائي) اعرابو څخه دپاره د دې چه اذن وركړ شي (د پاتې كيدلو) دوى ته او كيناستل هغه كسان چه دروغ ئې ويلي وو الله ته او رسول د الله ته (په دعوى د ايمان كښې)؛ ژر به ورسيږي هغو كسانو ته چه كافران شوي دي له دوى ځنې عذاب دردناک.

**تفسير:** يعنې همغسې چه د مدينې منورې په اوسيدونكو كښې منافقان هم شته او مخلصان هم، داسې په كليوالي ناپوهو اعرابو كښې هم هر راز (قسم) خلق پيدا كيږي. له هغو ځنې ئې دلته دوه قسمه ذكر دي. د مخلصينو كليوالو ذكر د دغې ركوع په پاى (اخر) كښې په ﴿ وَمِنَ الْاَعْرَابِ مَنْ يُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ﴾ الآية - (٩٩) آيت كښې راځي دلته د كليوالو د هغو

دوو ډلو ذکر دی چه معذرون او قاعدون دی. د معذرونو د ډلی په مصداق کښی د سلفو مفسرینو په منځ کښی اختلاف دی چه آیا له هغو څخنی د دروغو، بهانو او پلمو (تدبیرونو) جوړوونکی منافقین مراد دی (لکه چه له ترجمی څخه ښکاری) یا په رښتیا سره عذر کوونکی مسلمانان مقصود دی چه واقعاً د جهاد له کډون څخه معذور وو که ړومبنی شق اختیار کړ شی نو په آیت کښی به د منافقانو د دواړو قسمونو بیان وی او معذرون هغه کسان شول چه سره له نفاقه تش د ظاهری رسم او ښودانی له پاره ئی په دروغو پلمی (تدبیرونه) او حیلی جوړولی او له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ئی اجازی غوښتلی او له (قاعدون) څخه به هغه منافقان مراد وی چه هغو ړومبی د ایمان په دعوی کښی دروغ ویل او بیا ئی د ظاهری رسم او د ریائی دستور پروا هم دومره ونه کړه او د جهاد د نفیر (اعلان) د اوریدلو سره هم په خپلو کورونو کښی کیناستل، بی باکه او بی حیا شول او د عذر کولو له پاره هم رانغلل نو په دی تقدیر به ﴿ سَيُصِيبُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ ﴾ د منافقانو دغو دواړو ډلو ته شامل وی او معنی به ئی داسی کیږی هغه کسان چه له دغو دواړو ډلو څخه په خپل کفر باندی تر آخره قائم پاتی کیږی دوی ته دردناک عذاب مقرر دی او هغه کسان چه د توبی توفیق ور په برخه کیږی تر دغه وعید لاندی نه راځی. که له (معذرون) څخه مخلصان مؤمنان مراد شی چه واقعاً معذور وو نو له (قاعدون) څخه به منافقان مراد وی او د ﴿ سَيُصِيبُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ ﴾ وعید به یواځی د هم دوی په حق کښی وی. نو ګواکی د ړومبنی ډلی ذکر به د عذر د قبول په ډول (طریقه) وی.

لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَاءِ وَلَا عَلَى الْمَرْضَىٰ وَلَا عَلَى الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ مَا يُنفِقُونَ حَرَجٌ إِذَا نَصَحُوا لِلَّهِ وَرَسُولِهِ ۚ مَا عَلَى الْمُحْسِنِينَ مِن سَبِيلٍ ۚ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٩١﴾

نشته په ضعیفانو او نه په رنځورانو او نه په هغو کسانو چه نه مومی دوی هغه (مال) چه ئی ولګوی دوی (په غزا کښی) هیڅ ګناه (له غزا څخه په وروسته پاتی کیدلو کښی) کله چه اخلاص کوی دوی له الله او له رسول الله سره (او زړونه ئی صاف وی)؛ نشته په نیکو کارانو هیڅ لاره (د الزام او عتاب) او الله ښه بښونکی (د ګناهونو) ډیر رحم والا دی (د اجر او ثواب په انعام سره).

**تفسیر:** له دروغو عذر کوونکو څخه وروسته د رښتینو معذورینو عذر بیانوی. حاصل ئی دا دی چه عذر خو کله په شخصی ډول (طریقه) لازم بالذات وی مثلاً لکه د زړښت کمزوری چه عادتاً په

هیڅ صورت له سری څخه نشی بیلیدی او کله عارضی وی بیا عارضی یا بدنی وی لکه ناجوړتیا او نور یا مالی وی لکه افلاس او د سفر د اسبابو نشتوالی څه رنګه چه د تبوک په غزا کښی مجاهدین ډیر لری او اوږده سفر ته تلل او په جبری ډول (طریقه) سره ئی هلته خپل ځانونه رسول نو ځکه د سورلی د نشتوالی عذر هم معتبر او معقول ګڼل کیده لکه چه وروسته ئی ذکر راځی.

﴿ وَاللّٰهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ او الله جل جلاله ښه بښونکی د ګناهونو ډیر رحم والا دی د اجر او ثواب په انعام سره) یعنی هغه کسان چه واقعاً معذور دی که د هغوی زړونه صاف وی او له الله تعالیٰ جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره سمه او ښه معامله کوی او د اسلام ټول احکام منی مثلاً که دوی په خپله د تللو قدرت او طاقت نه لری خو د نورو حوصله او همت زیاتوی او له خپل طاقت سره سم تل د نیکی کولو او د صدق او اخلاص د اثبات له پاره خپل همت او استعداد ښکاره کوی نو په دوی باندی په جهاد کښی د نه ګډون له امله (وجی) هیڅ الزام نشته که له داسی مخلصانو څخه د بشریت په اقتضاء کومه کوتاهی او تقصیر هم وشی نو د بښونکی او مهربان خدای جل جلاله له دربار څخه هیله (ارزو)، امید او توقع شته چه وبښل شی او له ګناهونو څخه بی تیر شی.

---

وَلَا عَلَى الَّذِينَ إِذَا مَآ أَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لَآ أَجِدُ مَآ أَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ تَوَلَّوا وَّأَعْيُنُهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ حَزَنًا أَلَّا يَجِدُوا مَا يُنفِقُونَ ﴿۹۲﴾

---

او نشته (ګناه په وروسته پاتی کیدلو له غزا نه) په هغو کسانو کله چه راغلل دوی تاته دپاره د دی چه سورلی ورکړی ته دوی ته نو وویل تا ورته چه نه مومم زه (هم اوس) هغه شی چه سواره کړم تاسی په هغه نو بیرته وګرځیدل دوی حال دا چه سترګی د دوی بهیدی (یعنی تویولی) له اوښکو له جهته د غمه له دی وجی چه نه مومی دوی هغه څه چه ئی ولګوی (په جهاد کښی).

---

**تفسیر:** سبحان الله! د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د صحبت فیض د اصحابو کرامو رضی الله تعالیٰ عنهم په زړونو کښی له الله تعالیٰ جل جلاله سره داسی عشق او مینه او نشه پیدا کړی وه چه مثال ئی د بل هیڅ قوم او ملت په تاریخ کښی نشته. هغو د قدرت او شتو خاوندانو اصحابو ته وګورئ چه خپل ځانونه، مالونه او ګرد (ټول) شیان ئی د الله تعالیٰ جل جلاله په لاره کښی بیخی لګول او هر راز اسلامی خدمت ته هر وخت تیار او په انتظار کښی وو، او ډیرو لویو ځان جارولو او قربانی ورکولو ته لاس په نامه ولاړ وو، او په ډیر شوق، ذوق، ولوله او اشتیاق

سره په دغسې مواردو کښې یو پر بل باندې وړاندې کیدل او مسابقه ئې کوله، او بې قدرت او ناتوانه اصحابو رضی الله تعالیٰ عنهم له ډیر غم، اندیښنې او ژړا څخه خپل ځانونه له لاسه ورکړی وو چه په مونږ کښې ولې دومره استطاعت نشته چه د هغه په وسیله د خپل حقیقی محبوب په لاره کښې د ځان جارولو او قربانۍ ورکولو له پاره خپل ځانونه وړاندې کړو. په صحیح حدیث کښې راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د (تبوک) مجاهدینو ته وویل تاسې په مدینه کښې داسې یو قوم پریښې دی چه له تاسې سره د هر قدم په اجر او ثواب کښې شریک دی، هر هغه قدم چه تاسې د الله تعالیٰ جل جلاله په لاره کښې اخلئ یا له کومې بیدیا څخه تیریږئ یا چه په کومه لوړه خیژئ! یا کومې ژوری ته ښکته کیږئ! نو هغه قوم په دغو ګردو (ټولو) مواقعو کښې له تاسې سره ملګری او یو ځای دی، دا هغه خلق دی چه د حقیقی مجبوریتونو له امله (وجې) ستاسې له ملګرتوبه بیرته پاتې شوی دی د (حسن) په (مرسل) کښې د دغه مضمون له بیان څخه وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم د هم دغه آیت تلاوت کړی دی ﴿وَلَا عَلَى الَّذِينَ إِذَا مَا أَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لَا أَجِدُ﴾ الآیة .

---

إِنَّمَا السَّبِيلُ عَلَى الَّذِينَ يَسْتَأْذِنُونَكَ وَهُمْ أَغْنِيَاءُ ۚ رَضُوا بِأَن يَكُونُوا مَعَ الْخَوَالِفِ وَطَبَعَ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٩٣﴾

---

خبره هم دا ده چه لاره د ملامتۍ په هغو کسانو ده چه اذن (د بیرته پاتې کیدلو) غواړی له تا نه حال دا چه دوی غنیان وی، راضی شول په دې چه وی دوی (ناست) سره له بیرته شوو(ښځو، جونو) او مهر لګولی دی الله په زړونو د دوی نو دوی نه پوهیږی (په خپلې بدی خاتمې).

---

**تفسیر:** یعنې له قدرت او وس سره سره له جهاد څخه څنګ کوی او په ډیره بې غیرتۍ دغه شرم او عار په ځان اخلی، د ښځو په شان په کور کښې ناست باهوګان په لاس کوی، په تل او همیشه ګناه کولو سره د انسان زړه داسې مسخ او توریږی چه په کښې د ښو او بدو عیب او هنر، پوهه او تمیز نه پاتې کیږی کله چه د ډیری بې شرمۍ او بې عزتۍ له سببه کوم انسان په دغې اندازې لیونی او پاګل شی چه د ندامت او تأسف په ځای بالعکس په ګناه فخر کوی او خوښیږی نو دلته ښائی وپوهیږئ چه د ده په زړه باندې د الله تعالیٰ جل جلاله مهر لګیدلی دی العیاذ بالله.

يَعْتَذِرُوْنَ اِلَيْكُمْ اِذَا رَجَعْتُمْ اِلَيْهِمْ ؕ قُلْ لَّا تَعْتَذِرُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ لَكُمْ قَدْ نَبَّاَنَا اللّٰهُ مِنْ اَخْبَارِكُمْ ؕ وَ سَيَرَى اللّٰهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُوْلُهٗ ثُمَّ تُرَدُّوْنَ اِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٩٤﴾

عذرونه به کوی دغه (منافقین) تاسی ته (د بیرته پاتی کیدو خپلو د غزا نه) کله چه بیرته راوگرځئ تاسی (له تبوکه) دوی ته ووایه (ای محمده دوی ته مه) کوئ دا عذرونه (د دروغو مونږ ته) له سره به باور ونه کړو مونږ ستاسی په تحقیق خبر کړی یو مونږ الله له (ځینو) احوالو ستاسی (چه شر او فساد د زړونو ستاسی دی) او ژر به وويني الله (په علم الشهود سره هم) عملونه ستاسی او رسول د ده (به هم وويني چه له خپل نفاقه راګرځی که نه ګرځی بیا به بیرته بوتلی شئ تاسی (په قیامت کښی هغه) عالم د پټو او ښکاره ؤ (الله) ته نو خبر به درکړی تاسی ته په هغو کارونو چه وئ تاسی چه کول به مو (له اخفاء د نفاق او اظهار د وفاق).

**تفسیر:** یعنی لکه چه د «تبوک» د تلو په وقت کښی منافقینو راز راز (قسم قسم) حیلی او پلمی (بهانی) جوړولی کله چه تاسی مدینی ته راستانه (راواپس) شئ، نو هلته به هم دغه منافقین هم داسی باطل عذرونه درواندی کوی، او غواړی چه تاسی مطمئن او داده کړی، او قسمونه به خوری چه :«یا رسول الله! زمونږ نیت هم دا ؤ چه له تاسی سره لاړ شو، مګر هغه او دغه موانع او عوائق راوړاندی شول، او مونږ دلته مجبوراً پاتی شو.» تاسی هغوی ته ووایئ چه د دروغو جوړولو هیڅ فائده نشته، ستاسی دغه ګرد (تول) عذرونه لغو، چتی (فضول) او بیکاره دی، مونږ د الله تعالیٰ له جانبه ستاسی پر دغه کذب او نفاق خبر او مطلع کړی شوی یو، نو ستاسی پر دغو لغویاتو او چتی (بیکاره) خبرو څرنګه باور کولی شو؟ اوس هغه تیری خبری هیری کړئ! وروسته له دی نه به ستاسی طرز عمل ولید شی، چه تاسی دغه خپله دعوی تر کومی اندازی پوری تر پای (انجام) رسولی شی؟ آیا دغه ګرد (تول) دعاوی به په رښتینی صورت سره ظاهریږی یا خیر؟ په هر حال د هغه «عالم الغیب والشهادة» څخه ستاسی هیڅ یوه پټه خبره او عمل یا نیت پټ پاتی کیدی نشی د الله تعالیٰ حضور ته (په قیامت کښی) د ګردو (تولو) خلقو ورتګ دی، او د جزا ورکولو په وخت کښی ستاسی د هر وړوکی او لوی او ظاهری عمل

هغه په ښكاره ډول (طريقه) سره درظاهروي، او د هغه سره موافق به تاسي سره معامله او جزا سزا به دركړه شي.

سَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَكُمْ إِذَا انْقَلَبْتُمْ إِلَيْهِمْ لِتُعْرِضُوا عَنْهُمْ ۖ فَأَعْرِضُوا عَنْهُمْ ۖ إِنَّهُمْ رِجْسٌ ۖ وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿٩٥﴾

ژر به قسمونه خوري دوى پر الله تاسي ته كله چه بيرته راشئ تاسي (له غزا نه) دوى ته دپاره د دې چه ښنګ وكړئ تاسي له (عتاب د) دوى نه، نو ښنګ وكړئ تاسي له دوى نه (په ترک د عتاب سره)، بيشكه چه دوى پليت دي او ځاى د ورتلو د دوى جهنم (دوزخ) دى، دپاره د جزا وركولو په هغو كارونو چه وو دوى چه كول بى ئې (له كفره او نفاقه).

**تفسير:** د «تبوک» د بيرته راتلو په وقت كښې به منافقينو د دروغو قسمونه خوړل، او له هغو دروغو پلمو (تدبيرونو) او حيلو (بهانو) جوړولو څخه د دوى دغه غرض ؤ چه رسول الله صلى الله عليه وسلم او مسلمانان پخپلو قسمونو او ملمع ويلو سره راضي او مطمئن كړي، چه د رسالت له درباره پر دوى باندې څه عتاب او ملامتيا او پوښتنه عائده نشي. او د پخوا په شان هم داسي معامله په ابهام كښې پټه پاتي شي، او مسلمانان له هغو سره څه تعرض ونه كړي، حق سبحانه وتعالىٰ فرمائي چه دغه بهتر دى چه تاسي له هغو سره څه تعرض مه كوئ! ليكن دغه اغماض او تغافل (تعرض نه كول) پر دغه بنا نه دى چه مسلمانان له هغوى څخني راضي او مطمئن دى. بلكه د دوى د نهايت پليتي او شرارت لامله (له وجې) دى. دغه خلق دومره نجس او پليت واقع شوى دي، چه د هغوى د پاكي او صفائي هيڅ توقع نشي كيدى (او په وينځلو سره نه پاكيږي، نو ستاسي عتاب هم دوى ته هيڅ فائده نه رسوي) لهٰذا د غلاظت او د نجاست دغه پوستكي ښائي بيخي لرې وغورځولي شي! او له دوى څخه بيلتون ډير ښه دى، پاک الله به دوى د دوى د هستوګني ځاى ته هرومرو (خامخا) رسوي.

يَحْلِفُونَ لَكُمْ لِتَرْضَوْا عَنْهُمْ ۖ فَإِنْ تَرْضَوْا عَنْهُمْ فَإِنَّ اللَّهَ لَا يَرْضَىٰ عَنِ الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ ﴿٩٦﴾

قسمونه خوري دغه (منافقان په دروغو سره) تاسي ته لپاره د دې چه راضي

شئ تاسي له دوی نه، نو که راضي شئ تاسي له دوی نه (په قسم سره) نو بيشكه الله نه راضي كيږي له قومه فاسقانو

**تفسير:** د منافقينو لوی کوښښ په دی کښي دی چه په مکر او فريب او کذب سره مسلمانان له خپلو ځانونو څخه خوښ او خوشال کړی، فرض ئی کړئ که په چل او فريب او بهانو سره مخلوق راضي شی نو له هغه ځينی څه فائده در رسيدی شی؟ کله چه پاک الله له ده څخه راضي نه وی. د الله تعالیٰ په دربار کښي هيڅ قسم چل ول، مکر فريب، نه چليږی ګواکي تنبيه فرمائی له هغه قوم ځنی چه الله تعالیٰ راضي نه وی، نو هيڅ يو قانت مؤمن هم له هغه ځنی له سره راضي کيدی نشی، نو ځکه ښائی چه دغه خبری او خبط او خطا د هغو له دماغو څخه وويستلی شی. چه په دروغو خبرو او پلمو (بهانو) د رسول الله صلی الله عليه وسلم او د نورو مسلمانانو خوښی غواړی که له دوی سره د تغافل او اعراض معامله شوی ده نو دغه اغماض له سره د دی خبری دليل کيدی نشی چه مسلمانان له منافقانو څخه خوشال او مطمئن هم وی. حضرت شاه صاحب ليکی: «د هر هغه سړی حال چه معلوم وی چه منافق دی، نو د ده له لوری تغافل روا دی. ليکن دوستی، محبت، خپلوی او اتحاد ورسره ناروا دی.»

ٱلۡأَعۡرَابُ أَشَدُّ كُفۡرٗا وَنِفَاقٗا وَأَجۡدَرُ أَلَّا يَعۡلَمُواْ حُدُودَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ﴿٩٧﴾

(ځينی له صحرائی) اعرابو ډير سخت دی له جهته د کفره او له جهته د نفاقه (له ښاريانو نه) او ډير لائق دی له دی سره چه پوه نشی دوی په حدودو د هغو (احکامو) چه نازل کړی دی الله پر رسول خپل، او الله ښه عالم دی (په ټولو احوالو) ښه حکمت والا (چه هر کار په تدبير او مصلحت سره کوی)

**تفسير:** تر دی ځای پوری د مدينی منوری د منافقينو او د مخلصينو مؤمنينو احوال بيان شو، اوس د کليوالو صحرائيانو د څه حال ذکر فرمائی چه په دوی کښي هم څو دوله (قسمه) خلق دی: کفار، منافقين، مخلصين مسلمانان ځرنګه چه د کلی اوسيدونکی په قدرتی ډول (طريقه) سره عموماً تندخوی او سخت مزاج وی، (لکه چه په حديث کښي راغلی دی:«**من سکن البادية جفا**» او د علم او د حکمت د مجالسو ځنی د لريوالی لامله (له وجی) د تهذيب او تمدن اثر او د علم او عرفان رڼا (رنړا) ډيره لږه قبلوی، نو د هغوی کفر او نفاق د ښارونو د کفارو او منافقينو څخه ډير سخت دی. هغو ته داسی مواقع ډير لږ په لاس ورځی چه د علم او د صلاح د خاوندانو په صحبت کښي پاتی شی او د ديانت او د تهذيب هغه قوانين او قواعد زده کړی، چه

د الله تعالیٰ له جانبه پر رسول الله صلی الله علیه وسلم نازل شوی دی علم او معرفت هم داسې یو شی دی چه د انسان زړه نرموی، او مهذب ئی ګرځوی هغه خلق چه په دغی اندازی سره په جهالت کښې غرق وی نو ضرور دی، چه د هغوی زړونه هم سخت وی او د کفر او نفاق پر هری یوی لاری چه رهی (روان) وی، د بهائمو او سباعو په شان بی له عقله او بی له فکره په پټو سترګو تګ کوی. د اعرابو د بی رحمی او غټ زړه‌توب ذکر په متعددو احادیثو کښې راغلی دی. په یو حدیث کښې دی چه یوه اعرابی له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه: «تاسی له هلکانو (بچو) سره مینه او محبت هم کوئ» خدای ګو چه مونږ هیڅ کله له خپلو هلکانو سره مینه او محبت نه کوو!» رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «زه څه وکړم چه پاک الله ستا له زړه څخه خپل رحمت ایستلی دی» «والله علیم حکیم» او الله ښه عالم دی په ټولو احوالو ښه حکمت والا چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی) یعنی د الله تعالیٰ علم د بنی‌آدمانو پر ګردو (ټولو) طبقاتو محیط دی، او دی سم له خپله حکمته د هری طبقی سره د دوی د استعدادو او قابلیتونو سره موافقه معامله کوی. حضرت شاه صاحب لیکی: «د اعرابو په طبیعت کښې بی حکمی غرض خوښول او جهالت شدید وی، نو الله تعالیٰ حکمت والا دی چه له دوی څخه هغه مشکل کار نه آخلی او لوړی درجی ئی هم نه ور په برخه کوی.»

وَمِنَ الْأَعْرَابِ مَن يَتَّخِذُ مَا يُنفِقُ مَغْرَمًا وَيَتَرَبَّصُ بِكُمُ الدَّوَائِرَ ۚ عَلَيْهِمْ دَائِرَةُ السَّوْءِ ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٩٨﴾

او ځینی له (صحرائی) اعرابو هغه دی چه نیسی (ګڼی شمیری) هغه شی چه لګوی (ئی په لاره د الله کښې (محض یو) تاوان او انتظار کوی په تاسی د ګردشونو د زمانی (چه ګوندی دربادندی چپه شی) پر هم دوی دی وی ګردش د بدی (نه په تاسی)، او الله ښه اوریدونکی دی (د ټولو اقوالو) ښه عالم دی (په ګردو (ټولو) احوالو).

**تفسیر:** یعنی په «منافقینو اعرابو» کښې هغه خلق هم شته چه کوم وقت د الله تعالیٰ په لاره کښې څه شی ولګوی. نو په داسې کراهیت سره ئی لګوی، لکه چه دوی کومه جریمه (جرمانه) ورکوی یا تاوان ګالی (برداشت کوی)، دوی تر اوسه پوری هم منتظر دی چه مسلمانان د دهر په حوادثو کښې په کوم ګردش او آفت کښې مبتلا او اخته شی، چه مونږ پر دوی باندی خوښی وکړو، او د خوشالی اتنونه واچوو او له دغو تاوانونو څخه خلاص شو، او په دی نه دی خبر چه پخپله د دوی، په قسمت کښې ګردشونه راتلونکی دی. اسلام خو تل غالب او فائق اوسیږی او دغه منافقان ډیر سخت ذلیل او رسوا کیدونکی دی. الله تعالیٰ د هر یوه خبری او دعاوی

آوری، او ښه ورته معلوم دی چه کوم یو د عزت او د بری اهل دی؟ او کوم یو د ذلت او رسوائی وړ (لائق) او مستحق دی؟.

وَمِنَ الْاَعْرَابِ مَنْ يُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَيَتَّخِذُ مَا يُنْفِقُ قُرُبٰتٍ عِنْدَ اللّٰهِ وَصَلَوٰتِ الرَّسُوْلِ ؕ اَلَاۤ اِنَّهَا قُرْبَةٌ لَّهُمْ ؕ سَيُدْخِلُهُمُ اللّٰهُ فِىْ رَحْمَتِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۹۹﴾

او ځینې له (صحرائی) اعرابو څخه هغه دی چه ایمان لرونکی دی په الله او په ورځی آخری (چه قیامت دی) او نیسی (ګڼی شمیری) هغه شی چه لګوی (ئی په لاره د الله کښې) (اسباب) د نژدې والی په نزد د الله او (سبب د) دعاؤ د رسول د الله، خبردار شئ چه دغه (نفقات یا صلوٰة سبب د) نژدی والی دی دوی ته، ژر به داخل کړی دوی الله په رحمت خپل کښې بیشکه چه الله ښه مغفرت کوونکی (د متصدقانو) ډیر مهربان دی (پر متقربانو)

**تفسیر:** دلته ئی د قرآن کریم معجزانه تاثیر، او د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د حیرت غورځوونکو تعلیماتو نندارہ راښوولی ده، چه په هم دغه ځیږو مزاجو، غټ زړو، تندخویو او بی‌لارو کلیوالو او صحرائیانو کښې چه د کفر او نفاق، جهل او طغیان لامله (له وجې) د دی خبری له سره لائق او وړ (مستحق) نه وو چه د الله تعالیٰ په ښوولو آدابو او قواعدو باندی وپوهیدی شی، د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د تعلیمه او د قرآن عظیم له غږ او تفهیمه په دوی کښې داسی عارفان او مخلصان مسلمانان پیدا شول چه پر مبدأ او معاد او نورو ګردو (تولو) مؤمن به شیانو ایمان لری، او د پاک الله په لاره کښې هر شی چه لګوی. خالص د الله تعالیٰ د قرب د حاصلولو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دعا د ګټلو په غرض ئی کوی. الله تعالیٰ دوی ته زیری او بشارت ورکوی چه بیشکه دوی په دغو خپلو امیدونو او هیلو (ارزوګانو) کښې حق بجانب دی. یقیناً دوی ته همغه شی ور په برخه کیږی، چه د هغه نیت ئی په خپلو زړونو کښې کړی وی (یعنی د الله تعالیٰ قرب) او پاک الله خامخا دوی پخپل رحمت کښې داخلوی. پاتی شوه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دعا، هغه خو دوی پخپلو غوږونو سره آوری، او پخپلو سترګو ئی ګوری، چه هر کله کوم سړی ښه کار کوی او سم له اسلامی احکامو سره زیار (کوشش) کوی، یا صدقات او نور خیرات ورحاضروی (او مستحقینو ته ئی ورکوی)، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغو په حق کښې دعاء کوی. د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دغی دعاء ثمره هم همغه د الله تعالیٰ رحمت او تقرب دی، چه د هغه وعده لا له پخوا څخه شوی ده.

وَالسّٰبِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ مِنَ الْمُهٰجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ وَالَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ ۙ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ وَاَعَدَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ تَحْتَهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَاۤ اَبَدًا ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿١٠٠﴾

او هغه وړاندني اولني (ايمان لرونکی) له مهاجرينو نه او له انصارو نه او (نور) هغه کسان چه متابعت کړی دی دوی د (سابقانو) په احسان (نيکی) سره راضي شوی دی الله له دوی نه (په قبول د طاعت سره) او راضي شوی دی دوی له الله نه (په اعطاء د نعمت) او تيار کړی دی (الله) دوی ته جنتونه چه بهيږی لاندی د (ونو او مانيو د) دوی (څلور قسمه) ويالی چه تل به وی دوی په هغو کښي هميشه، دغه (رضا او جنت) بری دی ډير لوی.

**تفسير:** د «اعرابو مؤمنانو» د ذکر څخه وروسته دا مناسبه معلومه شوه چه د مؤمنينو د زعماؤ او اعيانو او مشرانو څه ذکر هم وکړ شي يعنی هغه مهاجرين چه په هجرت کښي ئی د سبقت او اوليت او اولويت شرف حاصل کړی دی، او هغه انصار چه په نصرت او اعانت کښي د سبقت او اوليت او اولويت افتخار لرونکی دی. الغرض هغو کسانو چه د حق په قبوليت، او د اسلام په خدمت کښي هومره چه د تقدم او وړاندی والی حصه او برخه آخيستی ده، بيا هغه خلق چه له ښو کارونو او حسن نيت د اسلام د دغو مقتدايانو متابعت او پيروی کوی، هم دغو ګردو (تولو) ته درجه په درجه د الله تعالیٰ رضا او خوښي او حقيقی بری حاصل شوی دی، همغسی چه هغوی په پوره خوښي او خوشالي او د قلب په انشراح سره د الله تعالیٰ د تشريعی احکامو او د تکوينی قضاؤ په مقابل کښي خپلي غاړی ږدی، په همغه ډول (طريقه) الله تعالیٰ هم دوی ته د خپلي خوښي او رضا سند ورعطا کوی، او په غير محدود انعام او اکرام ئی سر لوړوی.

**تنبيه:** د اسلافو مفسرينو اقوال د «والسابقون الاولون» په تعيين کښي مختلف دی. ځينی وائی چه هغه مهاجرين او انصار مراد دی چه پخوا له هجرته په اسلام سره مشرف شوی دی د ځينو په نزد هغه ذوات مراد دی چه د دواړو قبلو (بيت الحرام او بيت المقدس) په لوری ئی لمنځونه کړی دی ځينی وائی د «بدر» تر غزوی پوری ګرد (تول) مسلمانان «سابقين الاولين» دی. ځينی تر «حديبيی» پوری اسلام لرونکی د ده مصداق دروی. او ځينو مفسرينو دا رأيه ده چه ګرد (تول) مهاجرين او انصار د اطرافيو او وروستنيو مسلمانانو او راتلونکو نسلونو په اعتبار سابقين الاولين دی. زمونږ په نزد په دغو اقوالو کښي دومره تعارض نشته «سبقت» او «اوليت» خو اضافی شيان دی. يو سړی يا يو جماعت د يوه شي په اعتبار سابق، او د بل شي په نسبت لاحق کيدی شي.

لکه چه مونږ پاس په دغه تفسیر کښې اشاره وکړه، هر هغه شخص یا جماعت په هره درجه کښې چه سابق او اول شو په همغه اندازه د الله تعالیٰ د رضاء مستحق او په حقیقي بری کښې ئې برخه موندلې ده ځکه چه د «سبقت» او «اولیت» په شان په رضاء او بری کښې هم ډیر مدارج پیدا کیدی شي. والله اعلم.

وَمِمَّنْ حَوْلَكُم مِّنَ الْأَعْرَابِ مُنَافِقُونَ ۖ وَمِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ ۖ مَرَدُوا عَلَى النِّفَاقِ لَا تَعْلَمُهُمْ ۖ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ ۚ سَنُعَذِّبُهُم مَّرَّتَيْنِ ثُمَّ يُرَدُّونَ إِلَىٰ عَذَابٍ عَظِيمٍ ﴿١٠١﴾

او ځینې له هغو کسانو چه په شاؤخوا د تاسي (اهل المدینې) کښې دي له (صحرائي) اعرابو ځنې منافقان دي، او ځینې له خلقو د مدینې نه (یو قوم دی چه) عادت ئې نیولی دی پر منافقت نه پیژنې ته دوی، مونږ عالمان یو پر (نفاق د) دوی، ژر به په عذاب کړو مونږ دوی دوه کرته بیا به بوتلل شي دوی عذاب ډیر لوی ته.

**تفسیر:** پخوا له دې نه د کلیوالو اعرابو ذکر جاري ؤ، په منځ کښې د مؤمنینو اعرابو له تذکر څخه د مهاجرینو او انصارو په لوری کلام منتقل شو اوس په دغه آیت کښې خاص د «مدینې» او د هغې چارچاپیر د اوسیدونکو بیان دی، یعنې ځینې له اهل المدینې او د هغې د شاؤخوا ساکنین په نفاق سره عادي او روږدي شوي دي. او پر هغه تینګ ولاړ دي لیکن دغه نفاق دومره غریق او عمیق دی چه سره له دغه قرب مکاني او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د کمال فطانت او فراست هم تاسي بالتعیین او په قطعي طور سره په محض علاماتو او قرائنو سره د هغو پر نفاق نشي، مطلع کیدی. د هغو په پوره ډول (طریقه) سره تعیین او معلومول یواځې د الله تعالیٰ په علم کښې شته. څرنګه چه د عامو منافقینو پته او سراغ له څیرو شوندو، لهجو، خبرو اترو او نورو څخه موندل کیږي ﴿ وَلَوْ نَشَاءُ لَأَرَيْنَاكَهُمْ فَلَعَرَفْتَهُم بِسِيمَاهُمْ ۚ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِي لَحْنِ الْقَوْلِ ﴾ د دوی نفاق دومره ژور او عمیق (ډونګی) دی چه له هسې ظاهري علائمو سره د دوی پرده نه لرې کیږي.

«سنعذبهم» الایت ژر به په عذاب کړو مونږ دوی دوه کرته بیا به بوتلل شي عذاب ډیر لوی ته چه هغه) لوی عذاب د دوزخ دی: ﴿ إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ ﴾ (٦ جزء د النساء (١٤٥) آیت (٢١) رکوع) پخوا له هغه لږ تر لږه خامخا دوه ځلې په عذاب کښې مبتلا کیږي یو د قبر عذاب او دوهم هغه عذاب چه په دغه دنیوي ژوندون کښې ور رسیدونکی دی مثلاً

د ابن عباس رضى الله تعالىٰ عنه له يوه روايته سره سم رسول الله صلى الله عليه وسلم د جمعى په ورځ په منبر ولاړ شو د شپږ ديرشو سړيو نومونه ئى په زوره ورياد كړل او وئى فرمايل چه «اخرج فانك منافق ـ ته منافق ئى له مسجد د باندى وځه» دغه رسوائى هم يو شان ته عذاب ؤ يا پخوا له دى نه د دغه سورت په ابتداء كښى تير شو چه اموال او اولاد د دوى په حق كښى عذاب ګرځولى شوى دى : ﴿ فَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَالُهُمْ وَلَآ أَوْلَادُهُمْ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُم بِهَا فِى الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا ﴾ الآية ـ
يا ځنى له دوى څخه په لوړى او نورو ارضى او سماوى آفتونو كښى
مبتلا شوى د ذلت په مرګ سره مرى، يا د اسلام د ترقى او عروج د ليدلو څخه د حسد او رخى (كينى) او غيظ په اور كښى سوځى او غاښونه او ګوتى سره چيچى، چه هغه هم د دوى په حق كښى (د روح د سوان په شان ؤ. زما په نزد دغه ګرد (تول) اقسام عذاب د «مرتين» په احاطه كښى داخل دى او دغه عدد يا خو د مطلق تعداد لپاره دى لكه په «ثم ارجع البصر كرتين» كښى يا له دوو ځلى څخه نوعى اثنينيت مراد دى. يعنى «عذاب القبر» او د «قبل الموت» عذاب والله اعلم).

---

وَءَاخَرُونَ اعْتَرَفُوا بِذُنُوبِهِمْ خَلَطُوا عَمَلًا صَالِحًا وَءَاخَرَ سَيِّئًا عَسَى اللَّهُ أَن يَتُوبَ عَلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٠٢﴾

---

او (ځينى) نور (خلق) دى چه قائلان شوى دى په ګناهونو خپلو (چه عذر د تخلف ئى وړاندى نه كړ) ګډ كړى دى دوى نيک عمل (چه توبه او پښيمانى ده) او بل بد عمل (چه تخلف عن الجهاد دى)، قريب دى چه الله به رجوع وكړى په دوى باندى (په قبول د توبى)، بيشكه چه الله ښه ښونكى د خطياتو ډير رحم والا دى (پر تائبانو).

---

**تفسير:** په اهل المدينه كښى كه له يوه لورى دغه منافقين او متمردين دى چه خپل شرارتونه او جرمونه د نفاق په پرده كښى پټوى، او په هغو باندى په سختى سره ولاړ دى نو د بل لورى ځينى هغه مسلمانان دى چه له هغو ځنى د بشريت په مقتضىٰ كه كومه خطا او قصور واقع كيږى، نو نادمان كيږى او بلا تامل پخپلو ګناهونو اقرار كوى، د دوى نيكى او بدى سره ګډوډ (مخلوط) دى. بدى خو مثلاً دغه ده چه سره د (جهاد) د عام نفير د نبى كريم صلى الله عليه وسلم په دعوت د «تبوک» غزا ته حاضر نشول بيا په دغه غير حاضرى باندى له زړه پښيمانيدل او متاسف كيدل او ظاهراً او باطناً توبه ايستل او د نورو صالحه ؤ اعمالو لكه لمونځ، روژه، زكوٰة، حج يا په نورو غزواتو كښى شركت او نور په ځاى راوړل، دغه ګرد (تول) د دوى د نيكيو په فهرست كښى داخل دى نو داسى حضراتو ته الله تعالىٰ د معافى اميد وركړى دى.

مفسرينو ليکلي دي چه دغه آيت د حضرت ابولبابه او د ده د څو نورو ملگرو په حق کښې نازل شوی دی چه محض د کسل (راحت) او د هوسائي (ارام) خوښولو لامله (له وجې) «تبوک» ته حاضر نه شول ليکن کله چه د «تبوک» نه د پاک رسول صلی الله عليه وسلم د بيرته راتگ څخه خبر شول، نو په ډير ندامت او افسوس سره دوی گردو (تولو) خپل ځانونه د مسجد تر ستنو پورې کلک وتړل، او گردو (تولو) قسم سره ياد کړ، تر څو چه مو رسول الله صلی الله عليه وسلم پخپل مبارک لاس خلاص نه کړي او گناهونه مو ونه ښښي مونږ به هم داسې کلک تړلي ولاړ اوسو، کله چه رسول الله صلی الله عليه وسلم دوی په داسې حال کښې وليدل نو ئې وفرمايل والله تر څو چه الله تعالیٰ د دوی د پرانيستلو حکم را نه کړي زه ئې نشم پرانيستلی بالاخر دغه آيت نازل شو نو رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغو غوتې وپرانيستلې او د توبې د قبول بشارت ئې ورکړ، وائي چه دغه کسان له خلاصيدلو څخه وروسته د توبې د تکميل په ډول (طريقه) له څه اموالو سره حاضر شول چه د الله تعالیٰ په لاره کښې ئې تصدق کړي، نو په دې مناسبت دغه وروستنې آيت نازل شو.

خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً

واخله (ای محمده!) له مالونو د دوی صدقه (زکوٰة يا خيرات)

**تفسير:** محقق شيخ الهند د «صدقې» ترجمه په «زکوٰة» سره کړې ده ليکن که د «صدقې» لفظ عام واخسته شي چه زکوٰة او نورو نافله ؤ صدقاتو لره هم شامل شي نو ښه به وي ځکه چه له اکثرو روايتونو سره سم دغه آيت د هم هغو سړيو په حق کښې نازل شوی دی چه وروسته له معافې د توبې د تکميل په ډول (طريقه) له صدقاتو سره حاضر شوي وو لکه چه اوس په ړومبنې فائدې کښې نقل شوې دی هو د الفاظو د عموميت په لحاظ د دغه حکم مقصوريت او حصرولو ته د نص په مورد کښې څه ضرورت نشته نو ځکه اسلاف رضی الله تعالیٰ عنهم د زکات په مسئله کښې هم دغه آيت وړاندې کوي.

تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيْهِمْ بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ ۖ اِنَّ صَلٰوتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ ۗ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿١٠٣﴾

چه ښه پاک کړې ته دوی له گناهونو (يا له محبته د مال) او بابرکته کړې ته دوی د هغه په وسيله او دعا (د نيکۍ) دوی ته، بيشکه چه دعا ستا تسکين دی دوی ته، او الله ښه آوريدونکی (د تولو اقوالو) ښه عالم دی (په گردو

(تولو) احوالو).

**تفسير:** په «توبه» سره گناه معافيږي، يعني مؤاخذه د عذاب نه پرې پاتې کيږي ليکن يو قسم باطني کدورت او ظلمت او نور (چه د گناه د طبيعي اثراتو څخه ده) ممکن دی چه پاتې وي، چه بالخصوص له صدقې او عموماً د حسناتو په کولو سره زائله کيږي، نو په دې لحاظ سره ويلی شو چه صدقه د گناهونو له اثراتو څخه سړی بيخي پاک او صاف گرځوي او د اموالو برکت زياتوي. (د «زکوٰة» لغوي معنی «نماء» يعني زياتيدل دي) او په صدقه کولو کښې يوه لويه فائده دغه وه چه متصدقينو ته به رسول الله صلی الله عليه وسلم دعاوې کولې چه په هغو سره به د متصدق زړه ډاډه، او قلبي سکون او اطمينان به ورحاصليده، بلکه د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د دعا اثرات او برکات به د متصدقينو تر اولادو او احفادو پورې هم رسيده. اوس هم د ائمه ؤ په نزد مشروعه ده چه امام المسلمين د صدقه کوونکو په حق کښې په دې حيث چه دی د نبي صلی الله عليه وسلم وارث دی دعاء وکړي. البته د جمهورو په نزد دا ده چه د «صلوٰة» د لفظ استعمال دې ونه کړي چه لفظ د صلوٰة د نبي کريم صلی الله عليه وسلم مخصوص حق ؤ.

أَلَمْ يَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ هُوَ يَقْبَلُ ٱلتَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِۦ وَيَأْخُذُ ٱلصَّدَقَٰتِ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٠٤﴾

آيا نه پوهيدل دغه (تائبان) په دې چه بيشکه الله هم دی قبلوي توبه له بندگانو خپلو او آخلي ، قبلوي، صدقات (زکوٰتونه خيراتونه) او (نه پوهيږي په دې چه) بيشکه الله هم دی ښه توبه قبلوونکی ښه رحم والا دی.

**تفسير:** يعني د توبې او د صدقاتو قبلول يواځې د الله تعالیٰ په اختيار کښې دي. ځکه چه همغه ته ښه معلوم دي چه کوم يوه د زړه په اخلاص او د قبول د شرائطو له رعايته سره سمه توبه ايستلې، يا صدقه ئې ورکړې ده. لکه چه پخوا له دې نه پر ځينو باندې عتاب صادر شوی دی او د هميشه لپاره د دوی د صدقاتو منل مردود درولي شوي دي. او د دوی په حق کښې دعا او استغفار هم بې فائدې ښوولي شوي دي. بلکه د دوی جنازه کول هم ممنوع گرځولي شوي دي د دغو کسانو ذکر چه دلته کړی شوی د هغو توبه ئې منظوره او د صدقاتو د قبوليت حکم ئې ورکړ چه رسو ل الله صلی الله عليه وسلم د دوی په حق کښې (حياً او ميتاً) دعا وکړي.

وَقُلِ ٱعْمَلُوا۟ فَسَيَرَى ٱللَّهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُۥ وَٱلْمُؤْمِنُونَ ۖ

وَسَتُرَدُّونَ إِلَىٰ عَٰلِمِ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٠٥﴾

ووايه (اى محمده ! دوى ته) عمل كوئ تاسى (د څه شي چه مو زړه وى) نو ژر به ووينى الله عمل ستاسى (يعلم الشهودهم) او رسول د ده (به هم ووينى) او مؤمنان (به هم ووينى نيک او بد عملونه ستاسى)، او ژر به بيا بوتلى شئ تاسى (په بعث سره) عالم د پټو او ښكاره ؤ (الله) ته نو خبر به كړى (الله) تاسى په هغه سره چه وئ تاسى چه كول به مو (نو جزا به دركړى).

**تفسير:** يعنى په توبه او نورو شيانو سره ستاسى تير تقصيرات معاف شول وروسته به وليده شى چه تاسى تر كوم ځاى پورى د صدق او استقامت عملى ثبوت راوړاندى كوئ؟ كه په دغه جهاد كښې له تاسو څخه قصور صادر شوى دى، وروسته له دى نه نور جهادونه هم كيدونكى دى، او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د راشدينو خلفاؤ په مخ كښې به له تاسى څخه امتحان واخيسته شى او وبه كتل شى، چه تاسى څه ډول (طريقه) عمل كوئ؟ بيا به په قيامت كښې له پاک الله سره مخامخ كيږئ، او د خپل د هر عمل پوره بدل به ومومئ ځكه چه همغه پر ګردو (تولو) پټو او ښكاره ؤ شيانو او ظاهرو اعمالو او باطنى نياتو باندى خبردار او مطلع دى. او له هر يوه سره د ده د واقعى حالت سره موافق معامله كوى (د دى آيت دغه تقرير د حضرت شاه صاحب د مذاق سره سم كرى شوى دى، ځكه چه اوفق بالسياق دى والله اعلم).

وَءَاخَرُونَ مُرْجَوْنَ لِأَمْرِ ٱللَّهِ إِمَّا يُعَذِّبُهُمْ وَإِمَّا يَتُوبُ عَلَيْهِمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٠٦﴾

او نور كسان دى (له دغو پاتى شويو له غزا نه) چه وروسته كړى شوى دى (له قبول د توبى) دپاره د أمر (حكم) كولو د الله (په دوى كښې) يا به په عذاب كړى (الله) دوى يا به مهربانى وكړى پر دوى (په عطا د توفيق د توبى)، او الله ښه عالم دى (په ټولو احوالو) ښه حكمت والا (چه هر كار په تدبير او مصلحت سره كوى).

**تفسير:** د اهل‌المدينى څخه دلته د يوه وړوكى جماعت ذكر فرمائى. اصلى خبره دا ده چه د «تبوک» د غزوى متخلفين يعنى هغه كسان چه په «تبوک» كښې نه ؤ شريک شوى درى قسمه وو: (۱): منافقين چه د شک او نفاق لامله (له وجى) بيل پاتى شوى وو. (۲): هغه لټان چه د

سستي او ځان هوسائي (اسانتيا) لامله (له وجې) په غزا کښې نه ؤ شريک شوی، بيا په دوی کښې هم دوه قسمه سړی وو على الاكثر هغه کسان وو چه د پاک رسول صلى الله عليه وسلم د بيرته راتللو په وقت کښې دوی خپل ځانونه د مسجد په ستنو پوری تړلی ؤ چه د هغو ذکر په پخوانيو آيتونو کښې تير شو. يوائځې يو جماعت د دری سړيو داسی ؤ چه نه دوی خپل ځانونه په ستنو وتړل او نه کوم عذر او بهانه ئې وړوړاندی کړه او يوائځې همغه حقيقي واقعه ئې بې له تزئيده او تنقيصه په صافو صافو الفاظو د رسول الله په مخ کښې عرض کړه. نو د دوی په باره کښې دغه د «واخرون مرجون لامرالله» الآية ـ آيت نازل شو. يعنی د دوی په معاملې کښې اوس تعطيل او انتظار دی. تر څو ورځو پورې د پاک الله حکم ته منتظر اوسئ يا به الله تعالىٰ هغو ته سزا ورکوی يا به ئې ببښی او معافوی به ئې د دغو واقعاتو او د دری واړو نومونو تفصيل د وروستنی رکوع په خاتمه کښې شروع کيږی.

وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مَسْجِدًا ضِرَارًا وَّكُفْرًا وَّتَفْرِيْقًا بَيْنَ
الْمُؤْمِنِيْنَ وَاِرْصَادًا لِّمَنْ حَارَبَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ مِنْ قَبْلُ ؕ
وَلَيَحْلِفُنَّ اِنْ اَرَدْنَآ اِلَّا الْحُسْنٰى ؕ وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿١٠٧﴾

او (ځينې) هغه (منافقان) دی چه نيولی (جوړ کړی) دی دوی مسجد دپاره د ضرر رسولو (مؤمنانو ته) او دپاره د کفر او دپاره د بيلتون آچولو په منځ د مؤمنينو کښې او دپاره د انتظار دپاره د هغه چا چه جنګ ئې کړی دی له الله سره او له رسول د دغه (الله) سره پخوا (له دی نه) او خامخا قسمونه خوری هرومرو (خامخا) دوی چه اراده نه ده کړی مونږ (په جوړولو د مسجد سره) (د هيڅ څيز) مګر د (خصلت) نيک، او الله شاهدی اداء کوی چه بيشکه دوی هرومرو (خامخا) دروغجنان دی (په دغو خپلو قسمونو کښې).

**تفسير:** پخوا له دی نه د هغو کسانو ذکر ؤ چه له دوی ځنی په ظاهر کښې يو خراب کار (تخلف عن الجهاد) شوی ؤ. مګر د اعتقاد په صحت او د خطاء د اعتراف په وسيله هغو ته معافی او ښښنه وشوه. دلته د داسی يوه جماعت ذکر دی چه په ښکاره سره هغوی ښه کار (تعمير د مسجد) کړی دی، ليکن د بد اعتقادی لامله (له وجې) هغه د دوی د ځان وبال وګرځيده.
دغه واقعه داسی وه کله چه نبی کريم صلى الله عليه وسلم له مکې څخه هجرت وکړ، او مدينې ته ئې عزيمت او قصد وفرمايه، نو د مدينې څخه د باندی د «بنی عمرو بن عوف» په محلې کښې ئې واړول او څو ورځې وروسته ئې د مدينې منورې ښار ته تشريف راوړ او (د نبوی مسجد) ئې

تعمير کړ په هغې محلې کښې چه پخوا دوی آړولې ؤ او لمونځ ئې کړې ؤ خلقو يو مسجد ودان کړ چه د «قباء د مسجد» په نامه مشهور دی رسول الله صلى الله عليه وسلم به علی‌الاکثر د خالی په ورځ کښې هلته تله، او دوه رکعته لمونځ به ئې کاوه او د هغه ډير فضايل به ئې بيان فرمايل. ځينو منافقينو نه غوښتل چه د پخوانيو په خلاف او په ضد هغه مسجد ته نژدې يو بله ودانې د مسجد په نامه جوړه کړی. او خپل جماعت سره بيل کړی. او ځنې ناپوه او ساده مسلمانان يې هم د مسجد قباء څخه بيل او له خپلو ځانونو سره يې مل کړل فی الحقيقت د دغه ناپاک تجويز اصلی محرک يو (خزرجی) سړی (ابو عامر) راهب ؤ پخوا له هجرته دغه سړی نصرانی شوی ؤ. او د راهبانو ژوندون ئې غوره کړی ؤ. د مدينې منورې د ښاړخوا خلق خصوصاً د (خزرج) قبيله ده د زهد او فقيری معتقدان وو او د ده ډير زيات عزت، تعظيم او احترام به ئې کاوه. د رسول الله د بختور قدوم څخه وروسته چه په مدينې منورې کښې د ايمان او عرفان لمر راوخوت، او د اسلام په پلوشو سره شاوخوا رڼا (رنړا) شوله، نو د داسې فقيرانو کلائين هم ويلې شو. ځکه چه د لمر د روښانه نور او رڼا (رنړا) په مقابل کښې د مړی شوی ډيوی په رڼا (رنړا) پسې څوک ګرځی؟ ابو عامر د دغو اوضاعو د ليدلو څخه ډير زياد خفه شو، او د حسد او رخې (کينې) په اور کښې نينې نينې شو. هغه ته رسول الله صلى الله عليه وسلم د اسلام راوړلو دعوت ورکړ او وئې فرمايل چه: «ماله خپله ځانه سره حقيقی او صحيح ابراهيمی ملت راوړی دی.» ابو عامر وويل چه «زه لا له پخوا څخه پر هغه ملت قايم وم، ليکن تا له خپل لوری په ابراهيمی ملت کښې مخالف شيان ګډ کړی دی. رسول الله صلى الله عليه وسلم په ډير زور سره د هغه ترديد وفرمايه. بالاخر د ابوعامر له ژبې دغه خبره ووته «هر يو چه له مونږ ځنې دروغجن وی پاک الله دی هغه له وطنه لری يواځی او ګوښی (بيل) په غربت او مسکنت کښې مړ کړی!» رسول الله مبارک وفرمايل «آمين» يعنی الله تعالیٰ دی هم داسې وکړی. د «بدر» د غزوی څخه وروسته چه د اسلام اساس لا مضبوط او کلک شو او د مسلمانانو عروج او فروغ د حاسدانو سترګی وسوځولې نو ابوعامر وارخطا شو او مکی معظمی ته وتښتيد د دی دپاره چه کفار د رسول الله صلى الله عليه وسلم په مقابل ولمسوی او پورته ئې کړی. او د اسلام د جنګ لپاره ئې تيار کړی لکه چه د «احد» په غزوه کښې هم دغه ابو عامر هم له قريشو سره راغلی ؤ او د مقابلې د شروع کيدلو څخه پخوا راوراندی شو او د مدينې انصارو خصوصاً خزرجيانو ته ئې چه د جاهليت په عهد کښې د ده لوی مريدان ؤ خطاب وکړ او په خپل لوری ئې د دوی ميلان وغوښت مګر دغه احمق په دی نه پوهيده چه د پاک رسول د تصرف په مقابل کښې هغه پخوانی جادو او کوډی کله چليدی شی، بالاخر انصاريانو چه پخوا له دی نه ده ته «راهب» ويل داسې جواب ئې ورکړ او فاسقه! او د پاک الله دښمنه! الله تعالیٰ دی ستا سترګی له سره نه رڼوی! مونږ به څرنګه رسول الله صلى الله عليه وسلم پريږدو؟ او له تا سره به ملګرتوب کوو؟ د انصارو د دغه مايوس کوونکی جواب له اوريدلو څخه ابو عامر سخت په قهر شو او داسې ئې وويل ای محمده وروسته له دی نه هر هغه قوم چه ستا مقابلې ته راشی، او ستا په مخ کښې ودريږی، زه به برابر د هغو په

مرسته (مدد) ستا جنګ ته حاضریږم لکه چه د «حنین» تر جنګه پوری دی بی له ناغی د کفارو په ملګرتوب له مسلمانانو سره جنګیده په «احد کښی د هم ده د شرارت لامله (له وجی) رسول الله صلی الله علیه وسلم ته بدی سترګی ورسیدی ځکه چه ابو عامر د دواړو صفو په منځ کښی په پته سره یوه کنده کنستلی وه چه همغلته د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارکه څیره ژوبله، او مبارک غاښ ئی په شهادت ورسیده د (حنین) څخه وروسته چه ابو عامر محسوس کړ چه اوس هیڅ یوه عربی قوه د مسلمانانو په مخ کښی نشی دریدلی نو په تیښتی سره ئی ځان (شام) ته ورساوه او د مدینی منوری منافقانو ته ئی خط ولیکه چه زه به د (روم) له قیصر سره ملاقات کوم، او د هغه د یوه زورور لښکر سره د محمد صلی الله علیه وسلم مقابلی ته راتلونکی یم چه د سترګو په رپیدو کښی به ئی د ده ګردی (تولی) هیلی (امیدونه) او چاری له خاورو سره برابره وی، او مسلمانان به بیخی لتاړ او خواروزار کړی (العیاذ بالله) تاسی فیالحال یو عمارت د مسجد په نامه ودان کړئ چه هلته د لمانځه په پلمه (بهانه) سره راتول شئ او د اسلام په مخالفت هر قسم په زړه پوری خبری او مشوری وکړی شئ او زما قاصدان همدلته تاسی ته خطونه او پیغامونه دررسوی او که زه هم بالذات پخپله درشم نو هم دغه به یو موزون ځای د کتنی او د هستوګنی لپاره وی د هم دغو خبیثو مقاصدو په اقتضاء د قباء د مسجد په مقابل کښی د ضرار مسجد ودان شو. او د رسول الله په مخ کښی داسی بهانه وکړه شوه چه «یا رسول الله! قسم په الله تعالیٰ چه زمونږ نیتونه بد نه دی خو د باران او یخنئ او نورو لامله (له وجی) او بالخصوص د رنځورانو او ناتوانانو او ارباب‌الحوائجو ته «د قباء» تر مسجده پوری تلل ډیر سخت او مشکل دی. نو ځکه دغه مسجد ودان کړ شو، چه لمونځ کوونکو ته سهولت او د قباء د مسجد د تنګی شکایت لری شی، که تاسی یو ځلی هلته ولاړ شئ او لمونځ ادا کړئ نو ستاسی دغه مرحمت به زمونږ دپاره د سعادت او برکت موجب شی» او دغه غوښتنه ئی د دی لامله (له وجی) وکړه چه څینی ساده او ناپوه مسلمانان د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دی طرز عمل د لیدلو څخه د حسن ظن په بناء د دوی د مکر او فریب په جال کښی ونښلی. رسول الله صلی الله علیه وسلم په دغه وقت کښی د «تبوک» د تللو لپاره تیار ؤ. نو وئی فرمایل که الله تعالیٰ اراده وکړی نو د بیرته راتګ په وقت کښی به داسی کیدی شی. کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د «تبوک» څخه فارغ او بیخی مدینی ته نژدی شو نو جبرئیل علیه السلام دغه آیت راوړ چه په دی کښی ئی د منافقینو پر ناپاکو اغراضو باندی رسو ل الله صلی الله علیه وسلم مطلع کړ او د ضرار د مسجد غوته ئی وپرانستله رسول الله صلی الله علیه وسلم څلورو تنو (١)مالک بن خشم (٢) معن بن عدی (٣)عامر بن سکن (٤)وحشی ته حکم ورکړ چه دغه عمارت (چه نوم ئی د خداع او فریب له لوری مسجد ایښود شوی دی) ونړوی او له ځمکی سره ئی بیخی هوار کړئ دوی علیالفور د هغه حکم په تعمیل په هغه عمارت اور ولګاوه، او له هغه څخه ئی د ایرو او سکرو لوئی ډیری جوړی کړی په دی ډول (طریقه) د منافقینو او د فاسق ابو عامر ګرد (تول) ارمانونه د دوی په زړونو کښی پاتی شول او ابو عامر پخپلی دعا او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له آمینه سره سم د

(شام) په (قنسرين) کښې يواځې او ګوښې (بېل) د پرديسي توب په مرګ سره مړ شو ﴿ فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِينَ ظَلَمُوا وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴾ .
په دې آيت کښې د «لمن حارب الله ورسوله» څخه هم دغه فاسق ابو عامر مراد دی.

لَا تَقُمْ فِيهِ أَبَدًا لَمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَى التَّقْوَى مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ أَحَقُّ أَنْ تَقُومَ فِيهِ فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَنْ يَتَطَهَّرُوا وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ ﴿١٠٨﴾

مه درېږه ته په دغه (مسجد کښې دپاره د لمانځه) له سره هيڅکله، خامخا هغه مسجد (د قباء) چه ايښې شوی دی (تاداو «بنياد» ئې) پر تقوىٰ (پرهيز ګارۍ) له اولې ورځې ډير لايق د دی دی چه ودرېږې ته په هغه کښې (لپاره د لمانځه)، په دغه (مسجد) کښې هسې سړي دي چه خوښوي دوی دا چه ښه پاک وساتي دوی (ځانونه خپل د ګناهونو او نجاساتو نه)، او الله خوښوي ښه ځان پاکوونکي (چه ډير ثواب ورکوي).

تفسير: يعني په دغه مسجد کښې چه د هغه تاداو (بنياد) محض په ضد، کفر، نفاق او د اسلام په عداوت او د الله تعالىٰ او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په مخالفت باندې ايښې شوی دی تاسې له سره د لمانځه لپاره مه درېږئ» ستاسې د لمانځه وړ (لائق) هغه مسجد دی چه د هغه تاداو (بنياد) له اولې ورځې راهيسې پر تقوىٰ او پرهيز ګارۍ قائم شوی دی (اعم له دې چه د نبوي مسجد وي که د قباء مسجد وي) چه د هغو لمونځ کوونکي له هر راز (قسم) ظاهري او باطني نجاستونو او ګناهونو او شرارتونو څخه د خپلو ځانونو د پاکولو او صاف ساتلو اهتمام کوي، نو ځکه پاک الله هم دوی خوښوي. په حديث کښې راغلي دي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم د اهل قباء څخه پوښتنه وکړه چه: «تاسې د طهارت او پاکيزه‌ګۍ څه خاص اهتمام کوئ چه پاک الله ستاسې د تطهير مدح فرمايلې ده؟» دوی وويل چه «مونږ وروسته د لوټي د استعمالولو څخه په اوبو سره هم استنجاء کوو» يعني چه له عمومي ظاهري او باطني طهارت څخه برسيره دغو خلقو د دې شي اهتمام د عادت څخه زيات کاوه. له دې نه ظاهرېږي چه په دغه آيت کښې د قباء د مسجد ذکر دی. ليکن په ځينو روايتونو کښې بالتصريح راغلي دي چه د ﴿ لَمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَى التَّقْوَى ﴾ څخه نبوي مسجد مراد دی علماؤ پر دغه ډيرې خبرې کړې دي. مونږ د صحيح مسلم شريف په شرح کښې د دې په متعلق خپل ناقص خيال ظاهره او په روايتونو کښې سره تطبيق کړی دی. دلته د هغو بياناتو د تذکر ځای نشته.

أَفَمَنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَىٰ تَقْوَىٰ مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانٍ خَيْرٌ أَم مَّنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ
عَلَىٰ شَفَا جُرُفٍ هَارٍ فَانْهَارَ بِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿١٠٩﴾

آيا نو هغه څوک چه ايښې ئې وی تاداو «بنياد» (د ودانی د دين) خپل پر تقوىٰ (ويری) باندی له الله څخه او په رضا (د الله سره) خير غوره دی يا هغه څوک چه ايښی ئی وی تاداو «بنياد» (د ودانی د دين) خپل په غاړی د کندی باندی (هسی غاړه چه تری لاندی سيند بهيړی او وی) نړيدونکی نو ونړيږی (دا غاړه د کندی په سيند کښی) سره له جوړوونکی په اور د دوزخ کښی او الله نه ښيی سمه صافه لاره قوم ظالمينو ته

**تفسير:** يعنی د هر هغه کار تاداو او بنياد چه په تقوىٰ، يقين، اخلاص او د الله تعالىٰ پر رضاء غوښتلو باندی وی، هغه ډير مستحکم او ټينګ وی. په خلاف د هر هغه کار چه بنا ئی په شک، نفاق، مکر، خداع او فريب باندی وی، هغه د خپلی ناپايداری، سستی او بدانجامی په لحاظ داسی دی لکه چه کوم عمارت د يوه داسی خاورين پاڼ (کمر) په سر باندی ولاړ وی، چه د رود اوبو د هغه بيخ بيخی وړی وی چه که لږ شانی دغه په يوه ويښته ولاړ پاڼ (کمر) وخوځيږی، يا د سيلاب کومه چپه وړورسيږی، نو دغه عمارت سره له پانه (کمره) يو ځای لاندی په اوبو کښی لويږی، او بالاخر د دوزخ کندی ته وررسيږی ﴿ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴾ او الله نه ښيی سمه صافه لاره قوم ظالمانو ته) يعنی که په ظاهر سره کوم ښه عمل هم وکړی (لکه د مسجد جوړول) نو د ظلم او بی‌انصافی له شامته هغه سر ته نه رسيږی، او همغسی ويجاړ او شاړ پاتی کيږی.

لَا يَزَالُ بُنْيَانُهُمُ الَّذِي بَنَوْا رِيبَةً فِي قُلُوبِهِمْ إِلَّا أَن تَقَطَّعَ قُلُوبُهُمْ
وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١١٠﴾

همېشه به وی مانی (د نفاق د) دوی هغه چه بناء کړی ده دوی موجب د شبهی، د شک او د نفاق په زړونو د دوی کښی مګر چه ټوټی ټوټی شی زړونه د دوی (يعنی چه مړه شی) او الله ښه عالم دی (په ټولو احوالو) ښه حکمت والا دی (چه هر کار په تدبير او مصلحت سره کوی)

**تفسير:** د «ريبت» ترجمه ئې په «شبهه» سره کړې ده چه له هغې څخه مراد نفاق دی. يعنې د دغه بد عمل اثر داسې شو چه تل د هغو په زړونو کښې (تر هغه پورې چه مرګې دوی توتې توتې نه کړې) نفاق ټينګ او قايم پاتې کيږي لکه چه د دې سورت په ابتداء کښې تير شوی دی
﴿فَأَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِي قُلُوبِهِمْ إِلَىٰ يَوْمِ يَلْقَوْنَهُ بِمَا أَخْلَفُوا اللَّهَ مَا وَعَدُوهُ وَبِمَا كَانُوا يَكْذِبُونَ﴾
ځينو مترجمينو د «ريبت» معنی په چخيدو او ويريدلو سره کړې ده. يعنې هر هغه عمارت چه دوی د ناپاکو مقاصدو لپاره جوړ کړی وو، الله تعالیٰ خپل پاک رسول مطلع کړ، او د دوی هغو ګردو (ټولو) ناپاکو مقاصدو ته ئې خاتمه ورکړه. چه د هغه خيال د تل دپاره د هغو په زړونو کښې لکه اغزی غوندې چخيده. والراجح عند السلف هوالاول كما حكى ابن كثير رحمة الله عليه.

إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ۚ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ ۖ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ وَالْقُرْآنِ ۚ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ ۚ فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُم بِهِ ۚ وَذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿١١١﴾

بيشکه چه الله پيرودلي (آخيستلي) دي له مؤمنينو څخه نفسونه د دوی او مالونه د دوی (چه خپل ځان او مال په جهاد کښې شندی (قربانوي) په عوض د دې چه بيشکه شته (په بدل د دغه جهاد) دوی ته جنت، (دغه پيرودل (اخيستل) په دې شان دي چه) جنګونه کوي دوی په لاره د الله کښې نو (کله) وژني مؤمنان دا (کفار) او (کله د کفارو له لوري) وژلي شي دغه مؤمنان وعده ده په دغه (الله) باندې وعده حقه په توريت کښې او په انجيل کښې او په قرآن کښې، او څوک دی ښه وفا کوونکې په وعدې خپلې سره له الله څخه (بلکه هيڅوک نشته) نو خوشاله شئ تاسې (اې مؤمنانو) په بيع ستاسې باندې هغه چه معامله کړې ده تاسې له الله سره په هغې (بيع او شرى سره)، او دغه (بيعه چه ده) هم دغه بری دی ډير لوی.

**تفسير:** له دې نه زيات ګټور او فائده من تجارت او عظيم الشان بری به څه شې وي چه زمونږ د حقيرو ځانونو او فاني مالونو خريدار الله قدوس ګرځيدلي دی. زمونږ ځان او مال چه

فيالحقيقت د همغه پاک الله مملوک او مخلوق دی. محض په ادنیٰ ملابست سره زمونږ په لوری نسبتوی او (مبيعه) ئی دروی چه په «عقد د بيع» کښی مقصود بالذات وی او د جنت په شان يو ډير اعلیٰ مقام ئی د هغه «ثمن» راوښود چه «مبيعی» ته د رسيدلو وسيله ده. په حديث کښی نبی کريم عليه افضل الصلوٰة والتسليم فرمايلی دی چه «په جنت کښی به هسی نعمتونه وی چه سترګو به هغه له سره نه وی ليدلی، او غوږونو به ئی وصف نه وی آوريدلی. او نه به د کوم بشر پر قلب د هغه کيفياتو خطور کړی وی» اوس خيال وکړئ چه ځان او مال ئی چه هسی تش د نامه لپاره زمونږ باله شی د جنت «ثمن» ونه دراوه او نه ئی داسی وفرمايل چه الله تعالیٰ «بايع» او مونږ مشتريان کيدلو نو په دغه کښی د الله تعالیٰ تلطف او نوازش له حده تير دی چه د دغه لږ وړوکی يوه شی په معاوضه کښی ئی (چه هغه هم فی الحقيقت د همغه الله دی) د جنت په شان يو بیزواله او قيمتداره شی زمونږ لپاره مخصوص ګرځولی دی لکه چه د «بالجنة» په ځای «بان لهم الجنة» له فرمايلو څخه دغه راښکاری.

نيمه سا مو آخلی او سل سا ښښی　　　نور شيان بی حده او ويريا ښښی

بيا داسی هم نه دی کله چه زمونږ ځان او مال له مونږ وپيری (واخلی)، نو سم د لاسه ئی زمونږ له تصرف او قبضی څخه وباسی. بلکه د ده جل وعلا مطلوب يواځی هم دغه شی دی، کله چه موقع او وقت راشی نو ځان او مال د پاک الله په لاره کښی په اخلاص سره وړاندی کړئ. او د دغه عالی مقصد دپاره مو ځانونه او مالونه تل تيار او مهيا ولرئ! او د هغو په ورکولو کښی بخل، او شومتيا مه کوئ! اعم له دی نه چه هغه ئی واخلی که ئی وانه خلی. ښائی چه هغه د ده په دربار کښی تل حاضر او تيار اوسی. نو ځکه ئی وفرمايل ﴿ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ ﴾ يعنی مقصود د الله تعالیٰ په لاره کښی د ځان او مال حاضرول دی. وروسته له هغه که ووژنئ کفار يا ووژل شئ د کفارو له لاسه په دغو دواړو صورتونو کښی د «بيع عقد» پوره کيږی او په يقينی دول (طريقه) سره د «ثمن» يعنی د جنت مستحق ګڼل کيږئ ممکن دی چه ځينو ته دغسی کومه وسوسه ور په زړه شی چه معامله خو بيشکه ګټوره او فائده منه ده ليکن نقد «ثمن» ئی چيری دی؟ د هغه جواب ئی داسی ورکر ﴿ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ وَالْقُرْآنِ ﴾ يعنی د ثمن او د زرو د سوځيدلو هيڅ يوه ويره او خطر نشته. الله تعالیٰ په ډير تاکيد او اهتمام سره پوخ سند او دستاويز ليکلی دی چه د هغه خلاف غير ممکن دی آيا له الله تعالیٰ څخه بل څوک صادق القول، ربښتين، او پخپلی پخی وعدی باندی کلک ولاړ شته؟ له سره نشته! نو ځکه د الله تعالیٰ پور (قرض) د نورو څخه په زرهاؤ درجو غوره او پوخ دی. نو بيا مؤمنانو لره د خوښيدلو او پر خپلو قسمتونو باندی د نازيدلو لپاره له دی نه به کومه يوه موقع په لاس ورنشی چه بالذات پخپله رب العزت د دوی خريدار شی او په هسی شان او شوکت سره ئی وپيری (واخلی) عبدالله بن رواحه رحمت الله عليه څرنګه ښه او ربښتيا فرمايلی دی «دا هغه بيع وه چه وروسته له هغه مونږ نه غواړو چه هيڅ يو صورت د اقالی پاتی وی» الله تعالیٰ دی پخپل فضل اوکرم سره مونږ ناتوانان د دغو مسلمانانو په ډله کښی محشور وفرمائی آمين ثم آمين

(اوس الله تعالیٰ د دغو مؤمنانو مدح او ستاينه (صفت) په دغو نهو راتلونکو خصلتونو سره فرمائی چه پاس ئی د دوی د جهاد تمثيل په بيع او شری سره فرمايلی)

ٱلتَّٰٓئِبُونَ ٱلۡعَٰبِدُونَ ٱلۡحَٰمِدُونَ ٱلسَّٰٓئِحُونَ ٱلرَّٰكِعُونَ ٱلسَّٰجِدُونَ ٱلۡأٓمِرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَٱلنَّاهُونَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَٱلۡحَٰفِظُونَ لِحُدُودِ ٱللَّهِۗ وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١١٢﴾

(دوی) توبه کوونکی دی (له معاصيو) عبادت کوونکی شکر کوونکی (الله ته په اخلاص) بی تعلق پاتی کيدونکی دی (د دنيوی لذائذو نه) رکوع کوونکی دی سجدی کوونکی دی (په لمونځونو خپلو کښی حکم کوونکی دی په معروف (ښيګڼو ـ ښو) او منع کوونکی دی (خلقو لره) له منکرو (بدو کارونو (او ساتونکی دی د حدودو د الله (يعنی د احکامو ئی چه عمل پری کوی) او زيری ورکړه (ای محمده) مومنينو ته (چه موصوف دی په دغو صفاتو په جنت سره)

**تفسير:** ځينی له «السائحون» څخه «روژه نيوونکی» مرادوی، ځکه چه روژه دار د خوړلو او څښلو او نورو شهوانيو لذائذو، نفسانی مرغوباتو څخنی بی تعلقه وی او د روحانی مدارجو او ملکوتی مقاماتو سير کوی. د ځينو نورو په نزد د دغه لفظ مصداق «مهاجرين» دی چه د خپلو کورونو او کهولونو څخه بی تعلقه شوی دی، او په «اسلام» کښی ئی هستوګنه کړی ده. ځينی له دی څخه «مجاهدين» اراده کوی ځکه چه مجاهد له خپله ځانه بی تعلقه کيږی، او د الله تعالیٰ په لاره کښی د سر جارولو (قربانولو) لپاره راوځی. د ځينو په رايه کښی دغه لفظ د علم د طالبانو لپاره دی چه وطن، کور، کهول، راحت او نورو ګردو (تولو) شيانو څخه تيريږی، او د علم د طلب لپاره پرديسی کيږی، او د مسافری سختی، ستومانی، ګالی (برداشت کوی) په هر حال سره هغه ترجمه چه محقق شيخ الهند رحمة الله عليه فرمايلی ده په هغه کښی د دغو ګردو (تولو) اقوالو ګنجايش شته. مګر د اکثرو اسلافو په نزد هغه اوله ترجمه مختاره ده. والله اعلم. حضرت شاه صاحب فرمايلی دی «ښائی د بی تعلقه پاتی کيدلو څخه دا مراد وی چه په دنيا پوری زړه ونه تړی».

( ﴿ ٱلرَّٰكِعُونَ ٱلسَّٰجِدُونَ ٱلۡأٓمِرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَٱلنَّاهُونَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ ﴾ دوی سجده کوونکی دی په لمونځو خپلو کښی امر، حکم کوونکی دی په معروف او ښيګڼو (نيکو) او منع کوونکی دی خلقو لره له منکرو او بدو کارونو څخنی) يعنی د خپلو ځانونو د اصلاح او سنبالولو سره د نورو

ځانونه هم اصلاح کوی او سنبالوی. ګواکی د دوی کار د خالق تعالیٰ عبادت او د خلق الله خیر غوښتنه ده ( ﴿وَالْحٰفِظُوْنَ لِحُدُوْدِ اللّٰهِ ۗ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾ او دوی ساتونکی دی د حدودو د الله یعنی د احکامو ئی چه عمل پری کوی. او زیری ورکړه ای محمده مومنینو ته چه موصوف په دغو صفاتو دی په جنت سره ) یعنی د نیکی او بدی هغه حدود چه الله تعالیٰ معین فرمایلی دی له هغه څخه دی تجاوز ونه کړی لنده ئی دا چه بی له شرعی حکمه دی هیڅ یو کار ونه کړی. دغه ګرد (تول) صفات د هغو مؤمنینو دی چه خپل ځانونه او مالونه ئی پر الله تعالیٰ پلورډلی (خرڅ کړی) دی.

مَاكَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ يَّسْتَغْفِرُوْا لِلْمُشْرِكِيْنَ وَلَوْ كَانُوْٓا اُولِيْ قُرْبٰى مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ اَنَّهُمْ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿١١٣﴾

نه دی (لایق او روا) نبی ته او (نه دی لایق او روا) هغو کسانو ته چه ایمان لرونکی دی دغه چه مغفرت وغواړی دوی دپاره د مشرکانو او اګر که وی دا (مشرکان) خاوندان د خپلوی وروسته له دی خبری چه ښکاره شی دوی ته چه بیشکه دوی صاحبان دی د دوزخ (او په کفر مړه دی)

**تفسیر:** هر کله چه مؤمنینو خپل ځانونه او مالونه پر الله تعالیٰ پلورلی (خرڅ کړی) دی، نو دغه خبره ضروری ده چه له نورو ګردو (تولو) څخنی ځانونه راتول کړی او یواځی پاک الله ته خپل ځان وسپاری. له اعداءالله ؤ څخه دی چه د هغوی دشمنی له الله سره او جهنمی او دوزخیتوب ئی معلوم شوی دی، د خپلو مهربانیو او محبت سلسله وشلوی. اګر که دغه د الله تعالیٰ دښمنان د ده مور او خور، پلار او بادار (مالک)، ترور او نګور، تره او تربور، نیکه او نیا او نور مخصوص خپلوان هم وی. ځکه هغه چه له الله تعالیٰ څخه باغی او د ده دښمن وی نو هغه د مؤمنانو څرنګه دوستان او خپلوان کیدی شی؟ نو د هر هغه چا په نسبت چه داسی معلومات حاصل شی چه بالیقین دوزخی دی اعم له دی چه د الله تعالیٰ په وحی سره وی یا چه په ښکاره ډول (طریقه) سره پر کفر او شرک کښی مړ شی نو د دوی په حق کښی استغفار او د ښېنی غوښتنه منع ده په ځینو روایتونو کښی راغلی دی چه دغه آیت د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مور حضرت بی بی آمنی په باره کښی نازل شوی دی، په ځینو احادیثو کښی راغلی دی چه د رسول الله مبارک د تره ابوطالب په حق کښی نازل شوی دی، او ځینو داسی نقل کړی دی چه مسلمانانو وغوښتل چه د خپلو هغو مشرکینو پلرونو لپاره چه مړه شوی دی استغفار وغواړی. نو په دغه آیت سره دوی د هغوی له استغفاره منع شول. په هر حال د دی آیت شان نزول هر څه چه وی حکم خو هم دغه دی چه د هغو کفارو او مشرکینو په حق کښی چه د هغوی خاتمه پر کفر او شرک

باندې معلومه شي، استغفار ناجائز دی.

**تنبيه:** د رسول اکرم د والدينو په نسبت د اسلامي علماؤ اقوال ډير سره مختلف دي. ځينو د دوی پر ايمان او نجات باندې مستقلې رسالې ليکلې دي. او د حديثو شارحانو پرې محدثانه او متکلمانه بحثونه کړي دي. د احتياط او سلامتۍ ښه طريقه او لاره په دغې مسئلې کښې دا ده چه سړی پکښې چپ وي، او سکوت غوره کړي، او په داسې دقيقو، باريکو مباحثو کښې دې د ډيرې څيړنې (تحقيق) څخه احتراز وکړي، او ځان دې وساتي. د داسې مسائلو حقيقت يواځې پاک الله ته معلوم دی. او همغه د ګردو (ټولو) مسائلو په ښه ډول (طريقه) سره فيصله کوونکی دی.

وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ إِبْرٰهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَن مَّوْعِدَةٍ وَعَدَهَا إِيَّاهُ ۚ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ أَنَّهُ عَدُوٌّ لِّلَّهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ ۚ إِنَّ إِبْرٰهِيمَ لَأَوَّاهٌ حَلِيمٌ ﴿١١٤﴾

او نه وه ښېښنه غوښتل د ابراهيم دپاره د پلار خپل مګر په سبب د وعدې چه کړې وه (پلار) هغه وعده له دغه (ابراهيم) سره (چه مسلمانيږم)، نو کله چه معلومه شوه ابراهيم ته چه بيشکه دغه پلار د ده دښمن دی د الله (چه مړ شو په کفر کښې) نو بيزاره شو له هغه، بيشکه ابراهيم خامخا ډير آه کوونکی (په زړه پوست) ډير تحمل والا ؤ.

**تفسير:** (د «وعدها اياه» ترجمه ځينو داسې کړې ده: کړې وه دغه وعده ابراهيم د خپل پلار سره لکه چه) د «مريم» په سورت کښې راغلې دي کله چه د حضرت ابراهيم عليه السلام پلار د حق له قبوله اعراض وکړ او د ضد او عناد له سببه ئې حضرت ابراهيم عليه السلام په وژلو سره ويراوه نو د خپلو والدينو د ادب په ملاحظه ئې وفرمايل: ﴿ سَلٰمٌ عَلَيْكَ ۖ سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّي ۖ إِنَّهُ كَانَ بِي حَفِيًّا ﴾ يعنې زه د الله تعالىٰ له درباره ستا دپاره استغفار غواړم نو دوی سم له دغې وعدې سره تل استغفار کاوه، لکه چه په بل ځای کښې د «واغفرلابي» د فرمايلو تصريح هم شته د دې مطلب داسې نه دی چه ابراهيم عليه السلام د يوه هسې مشرک لپاره ښېښنه غواړي چه هغه د شرک په حالت کښې قايم ؤ. نه غرض ئې داسې ؤ چه هغه ته داسې يو توفيق ور په برخه شي چه د شرک له حالته ووځي، او د اسلام په غيږ کښې ننوځي او د اسلام قبول د هغه د خطاؤ د معافۍ سبب شي. «ان الاسلام يهدم ماكان قبله» کله چه لويو اصحابو د ابراهيم عليه السلام دغه استغفار په قرآن کښې ولوست نو د دوی په زړونو کښې هم دغه خيال پيدا شو چه مونږ ته هم ښائي چه د خپلو مشرکينو پلرونو په حق کښې استغفار وکړو. د دې خبرې جواب الله تعالىٰ داسې ورکړ چه ابراهيم عليه السلام د خپلې يوې وعدې په بناء يواځې تر هغه وقته پورې د خپل

پلار لپاره ښښنه غوښتله، چه په يقيني دول (طريقه) سره ورته دا خبره نه وه واضحه شوی چه د ده پلار (آزر) پر کفر او شرک او د الله تعالیٰ پر دښمنی باندی مری ځکه چه پخوا له مرګه احتمال ؤ چه توبه وباسی، او په اسلام مشرف شی، او وبښلی شی. نو کله چه ابراهيم عليه السلام ته دغه خبره څرګنده (ښکاره) شوه چه د هغه خاتمه په کفر او شرک سره وشوه او تر مرګه پوری ئی د الله تعالیٰ د دښمنی څخه لاس وانه خيست نو ابراهيم عليه السلام هم تری بيخی بيزاره شو. او دعاء استغفار او نور ئی ترک کړل. پخوا ئی د زړه د نرمی او شفقت لامله (له وجی) دعا کوله. کله چه د توبی او د رجوع ګرد (تول) احتمالات منقطع شول، نو ده هم د هغه د خير غوښتلو څخه لاس واخيست او دغه حادثه ئی د نبوت په صبر او تحمل سره وځغمله. په حديث کښی راغلی دی چه په محشر کښی به حضرت ابراهيم عليه السلام عرض کوی چه :يا اله العٰلمينه! تا زما سره داسی وعده فرمايلی وه چه ابراهيم به نه رسوا کوم مګر له دی نه به بله کومه رسوائی وی چه نن زما پلار د ګردو (تولو) خلقو په مخ کښی په دوزخ کښی غورځاوه شی په دغه وخت کښی به د ده د پلار څيره مسخ کيږی، او د کوږ (ضبع) په شکل به اوړی او پرښتی به په کشولو (راښکلو) سره هغه د جهنم په لوری بيائی. ښائی دغه به د دی لامله (له وجی) وی چه خلق ئی ونه پيژنی. ځکه چه د رسوائی دار او مدار پر پيژندلو باندی دی. کله چه د پيژندګلوی آثار په منځ کښی پاتی نشی او څوک ونه پوهيږی چه څه شی ئی په دوزخ کښی وغورځاوه نو بيا به د هغه څوی ولی رسوا کيږی؟

---

وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِلَّ قَوْمًۢا بَعْدَ اِذْ هَدٰىهُمْ حَتّٰى يُبَيِّنَ لَهُمْ مَّا يَتَّقُوْنَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۱۱۵﴾

---

او نه دی الله چه بی لاری کړی هيڅ يو قوم وروسته له هغه وقت چه لاره ئی وښووله دوی ته (د اسلام) تر هغه پوری چه بيان کړی دوی ته هغه څيز چه ځان تری وساتی (او دوی بيا ځان ونه ساتی)، بيشکه الله پر هر څيز باندی ښه عالم دی.

---

**تفسير:** يعنی د حجت له اتمامه وړاندی او د حق له اظهاره پخوا پاک الله هيڅوک نه ګمراه کوی. ګمراهی دغه ده کله چه الله تعالیٰ خپل احکام په صاف او ښکاره دول (طريقه) بيان کړی او بيا د هغه امتثال ونشی، ګواکی اشاره ئی وفرمايله هغو کسانو چه پخوا له ممانعته ئی د مشرکينو لپاره ښښنه غوښتلی ده پر هغو باندی هيڅ يوه مؤاخذه نشته. ليکن وروسته له خبريدلو څخه داسی کار کول ګمراهی ده.

إِنَّ اللَّهَ لَهُ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۖ يُحْيِي وَيُمِيتُ ۚ
وَمَا لَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿١١٦﴾

بیشکه چه الله (خاص) ده لره دی سلطنت د آسمانونو او د ځمکې، ژوندی کول او مړه کول کوی، او نشته تاسی ته بې له الله څخه هیڅ ولی (دوست ساتونکی له آفاتو) او نه مددګار (خلاصوونکی له بلیاتو).

**تفسیر:** کله چه سلطنت د ده دی نو ښائی چه د هغه حکم هم پری وچلیږی دی په خپل محیط علم او کامل قدرت سره هر هغه احکام چه نافذ کړی د بندګانو تکلیف او کار دا دی چه بی خوفه او بی خطره د هغه په تعمیل او اجراء کښی بوخت (مشغول) او لګیا شی. او په هغه کښی د هیڅا خاطر او لحاظ ته موقع او ځای ورنه کړی. ځکه چه بی له الله تعالیٰ څخه بل هیڅوک بکار راتلونکی نه دی.

لَقَد تَّابَ اللَّهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهٰجِرِينَ وَالْأَنصَارِ
الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِن بَعْدِ مَا
كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِّنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ ۚ إِنَّهُ
بِهِمْ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١١٧﴾

خامخا په تحقیق رجوع کړی ده الله پر نبی باندی او (پر) مهاجرینو او انصارو هغو کسانو باندی چه متابعت کړی وو دوی د نبی په وقت د تنګسی (او سختی) کښی وروسته له هغه چه نژدی شوی وو چه کاږه شی زړونه د یوی ډلی له دوی (له متابعته د نبی) بیا رجوع په رحمت سره وکړه (الله) پر دوی! بیشکه چه الله پر دوی باندی ډیر مهربان زیات رحم والا دی.

**تفسیر:** (یعنی خامخا په تحقیق قبوله کړه الله تعالیٰ توبه او مهربانی ئی وفرمایله پر نبی چه اذن ئی ورکړی ؤ منافقانو ته د بیرته پاتی کیدو او په مهاجرینو او په انصارو چه نفرت ئی کیده له غزا اما طبعی نه عنادی هغه مهاجرین او انصار چه پیروی ئی کړی وه د رسول صلی الله علیه وسلم په وقت د تنګسی کښی هم له طرفه د مرکب چه په لسو تنو یو اوښ رسیدلی ؤ، او هم له طرفه د توښی چه دوو تنو به په یوه دانه د خرما ورځ تیروله، او هم له طرفه د اوبو چه سره له قلته د

مرکب اوښ به ئې حلال کړ، او د هغه په رطوباتو به ئې ساعت تيراوه، لنډه ئې دا چه) د دې مشکل ساعت څخه مراد د «تبوک» د غزوې زمانه ده چه په هغې کښې څو ډوله (قسمه) مشکلات راتول شوی ؤ، سخته ګرمی، اوږده مسافه، د خرماؤ موسم د هغې زمانې د عظيم الشان يو سلطنت سره مقابله او پرې د اسلامي لښکر تعرض بيا د ظاهرې بې سروسامانۍ داسې حالت ؤ چه يوه يوه دانه خرما به هر ورځ پر دوو تنو غازيانو باندې ويشله کيده په آخره کښې دې خبرې ته هم وار ورسيده چه ډېرو مجاهدينو به فقط يوه دانه خرما په خوله ځبيښله او بيا به ئې پرې اوبه څښلې بيا د اوبو د فقدان او نشتوالې لامله (له وجې) د اوښانو د فضلاتو په لندبلو (رطوباتو) به ئې ساعت تيراوه. سورلې په دغه اندازه لږه وه چه په لسو لسو تنو به يو اوښ وررسيده چه په نوبت سره به يو سوريده او بل به ترې ښکته کيده. د همغه ايثار جذبه او د ځان جارولو (قربانولو) جوش ؤ چه د اسلامي ډير يو وړوکې جماعت ته داسې قوت او قدرت ور په برخه کړې شوی ؤ چه په هغه سره د دنيا پر ګردو (تولو) اقوامو باندې غالب او ګرد (تول) جهان د علم او عرفان او عدل او احسان په رڼا (رنړا) سره روڼ شو. لله الحمد والمنه!

﴿ مِنۢ بَعۡدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٖ مِّنۡهُمۡ ﴾ الآية - وروسته له هغه چه نژدې شوی ؤ چه کاږه شي زړونه د يوې ډلې له دوی له متابعته د نبي صلی الله عليه وسلم بيا رجوع په رحمت سره وکړه الله پر دوی بيشکه چه الله پر دوی باندې ډير مهربان دی زيات رحم والا په انعام د اجر او ثواب سره) د الله تعالیٰ مهرباني او مراحم په محمد صلی الله عليه وسلم بيشماره دي او د دوی له برکته پر مهاجرينو او انصارو هم د الله تعالیٰ مخصوصه توجه او مهرباني ده چه دوی ئې په ايمان او عرفان مشرف فرمايلي دي د نبوی اتباع او د فی سبيل الله جهاد او د مهمو امورو، د لويو عزائمو په پای (انجام) رسولو همت او توفيق ئې ورېښلی دی. بيا په هسې مشکل وقت کښې چه د ځينو مؤمنينو زړونه هم د مشکلاتو او صعوباتو سختيو له هجومه پرکيدل او لړزيدل او نژدې ؤ چه د نبي له رفاقته وروسته پاتې شي. الله تعالیٰ بيا پر دوی مهرباني وکړه او لاسونه ئې ونيوه چه دوی له سره پر داسې خطراتو او وساوسو باندې عمل ونه کړې او محفوظ ترې پاتې وي او د مؤمنينو همتونه ئې مضبوط او د دوی ارادې ئې لوړې کړې.

---

وَعَلَى ٱلثَّلَٰثَةِ ٱلَّذِينَ خُلِّفُواْ حَتَّىٰٓ إِذَا ضَاقَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَرۡضُ بِمَا رَحُبَتۡ وَضَاقَتۡ عَلَيۡهِمۡ أَنفُسُهُمۡ وَظَنُّوٓاْ أَن لَّا مَلۡجَأَ مِنَ ٱللَّهِ إِلَّآ إِلَيۡهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيۡهِمۡ لِيَتُوبُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١١٨﴾

---

او (خصوصاً) پر هغو درې تنو چه بيرته پاتې شوی وو (له قبوله د توبې) تر هغه پورې چه تنګه شوه پر دوی ځمکه (په سبب د بې التفاتې د خلقو) سره

له ارتوالي د دی (ځمکی) او تنګ شو پر دوی زړونه د دوی (له ډیره غمه) او يقين ئی وکړ چه نشته ځای د پناه له (قهره د) الله (هیچا ته) مګر هم ده ته دی، بيا رجوع وکړه (الله) پر دوی (په توفیق د توبی سره) دپاره د دی چه توبه وباسی دوی، بیشکه چه الله هم دی دی ښه توبه قبلوونکی ډیر رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره)

تفسير: (یعنی بیشکه الله پر دوی باندی ډیر مهربان دی بالخاصه پر هغو دریو تنو چه بیرته پاتی شوی وو له تبوک نه او د الله تعالیٰ حکم ته منتظر او حیران ناست وو، او هیچا به ورته التفات نه کاوه تر ځلویښتو ورځو پوری او بیا خپلی ښځی هم تری منع کړی شوی هم داسی رټلی ترټلی به ګرځیدل تر هغه پوری چه تنګه شوه پر دوی ځمکه) دغه دری سړی کعب بن مالک، هلال بن امیه او مرارة بن الربیع دی چه سره له دی چه مؤمنان او مخلصان ؤ خو د ځان آسانی او هوسائی (ارام) خوښولو په اثر بی له شرعی عذره د «تبوک» د غزوی له شرکته محروم پاتی شول کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم بیرته تشریف راوړ نو دوی نه د منافقینو په شان د دروغو عذرونه وړاندی کړل او نه ئی د ځینو صحابه ؤ غوندی خپل ځانونه په ستنو وتړل، بلکه هغه حقیقی واقعه ئی په صافو الفاظو سره عرض کړه او پخپل قصور او کوتاهی باندی ئی په ښکاره او علانیه ډول (طریقه) اعتراف او اقرار وکړ. نتیجه داسی شوه چه د منافقینو له لوری په ښکاره ډول (طریقه) سره اغماض وکړ شو، او د هغوی بواطن الله تعالیٰ ته وسپارلی شول او د «اصحاب السواری» یعنی هغو کسانو چه خپل ځانونه ئی پر ستنو پوری تړلی وو، توبه قبوله کړه شوه او د دغو دری واړو فیصله د څه مدی لپاره تادیباً ملتوی پاتی شوه وروسته د پنځوسو ورځو د تیریدلو څخه د دوی توبه هم قبوله شوه د بیرته پاتی کیدلو څخه په «الذین خلفوا» کښی هم دغه مطلب دی لکه چه په بخاری شریف کښی د هم دغه کعب بن مالک رضی الله تعالیٰ عنه څخه نقل شوی دی.

له دغو دری واړو څخه کعب بن مالک رضی الله تعالیٰ عنه خپله واقعه په ډیر ښه شرح او بسط او په خورا (ډیر) مؤثر طرز سره بیان فرمایلی ده چه په صحیح بخاری شریف او نورو کښی دی وکتله شی دلته د هغه ځینی اجزاء نقل کاوه شی:

کعب بن مالک فرمائی: «ځرنګه چه د تبوک مهم جنګ ډیر سخت او ربړ پیښوونکی ؤ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ګردو (تولو) اصحابو ته د عمومی تیاری حکم ورکړ، ګرد (تول) خلق د خپل طاقت او استطاعت سره موافق د سفر په سامان او اسباب جوړولو کښی مشغول او لګیا وو مګر زه قرار بیفکره او بی اندیښنی ناست وم او داسی می له خپله ځانه سره غوټه کړی وه هر کله چه وغواړم نو سم د لاسه به ځان تیاروم او له نورو غازیانو سره به ګډ حرکت کوم ځکه چه د الله تعالیٰ په فضل او کرم سره په هغه وقت کښی له ما سره هر راز (قسم) سامان او اسباب تیار ؤ او د یوه په ځای دوه سورلی له ماسره موجودی وی زه د هم دغه غفلت په نشه کښی

دوب تللي وم چه د نبی کریم علیه افضل الصلوٰة والتسليم له حضوره د ډيرش زرو اسلامي
مجاهدينو د کوچيدلو (روانيدلو) حکم صادر شو، په دغه وقت کښې هم زه په دغه چرت
(خيال) کښې وم اگر که رسول الله صلى الله عليه وسلم تللي دی، خو زه هغوی سره ملگری یم
هره ورځ به مې ويل چه نن به ځم او صبا به ځم په هم دغه نن او صبا کښې ډيرې شپې تيرې
شوی کله چه رسول الله صلى الله عليه وسلم (تبوک) ته ورسيد نو ئی وفرمايل «مافعل کعب بن
مالک څه وکړه کعب څوی د مالک؟» د بنی سلمه يو سړی وويل «يا رسول الله عيش او عشرت
او اعجاب او غرور هغه ته اجازه نه ورکوی چه له کوره د باندی ووځی» معاذ بن جبل رضی الله
تعالیٰ عنه وويل چه «تا ډيره بده خبره وکړه قسم په الله خورم چه مونږ په کعب کښې پرته
(علاوه) له نيکی بل هيڅ شی نه دی ليدلی» رسول الله صلى الله عليه وسلم دغه گردی (تولی)
خبری په سکوت واوريدی کعب رضی الله تعالیٰ عنه وائی چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د
تشريف وړلو څخه وروسته ډير زيات وحشت ماته له دغی خبری څخه پيدا شو چه په گردی
(تولی) مدينی منوری کښې پرته (علاوه) له منافقينو او معذورانو مسلمانانو څخه بل هيڅوک په
نظر نه راته په هر حال دلته زما په زړه کښې راز راز (قسم قسم) خبری تيريدی او پرله پسی هر
قسم پلمی (بهانی) می جوړولی چه د رسول الله مبارک په حضور کښې به داسی وايم هغسی به وايم
او په يوه عذر سره به خپل ځان خلاصوم څه مهال (وخت) چه دا رامعلومه شوه چه رسو ل الله
صلى الله عليه وسلم په خير او عافيت سره بيرته تشريف راوړونکی دی. نو زما له زړه څخه گرد
(تول) دروغ او فريب محوه شو او دغه می په خپل زړه کښې غوته کړه چه پرته (علاوه) له
رښتيا څخه بل هيڅ شی د ده په دربار کښې په کار نه راځی او نه می ژغورلی (بچ کولی) شی
رسول الله صلى الله عليه وسلم په مسجد کښې تشريف درلود (لرلو) د دوی په حضور کښې د
اصحابو لويه مجمع مشرف وه منافقينو د دروغو راز راز (قسم قسم) پلمی (تدبيرونه) او بهانی
جوړولی او په هغو سره بی ئی خپل ځانونه له تنقيداتو څخه ژغورل (بچ کول) دلته زه د پاک
رسول الله صلى الله عليه وسلم سره مخامخ شوم دوی ماته په غضب سره گډ مسکی شول او په تبسم
سره ئی زما د غير حاضری پوښتنه وکړه ما عرض وکړ يا رسول الله صلى الله عليه وسلم که په
دی وقت کښې زه د دنيادارانو څخنی د کوم يوه دنيادار په مخ کښې وی نو تاسی به ليده چه په
څه طلاقت او سلاست او غوړی ژبی سره به می د دروغو پلمی (بهانی) او حيلی او حوالی
جوړولی او ځان به می بيخی صاف و پاک گرځولی ؤ مگر دلته خو معامله داسی يوه پاک ذات
سره ده چه که زه په دروغو سره هغه له خپله ځانه موقتاً خوښ هم وگرځوم، نو لږه موده وروسته
الله تعالیٰ ئی له رښتيا خبری څخنی خبروی او په گردو (تولو) حقائقو ئی مطلع کوی او له ما ئی
خفه کوی په خلاف د هغه په رښتيا ويلو کښې اگر که لږه شيبه تاسی له ما څخه خفه کيږئ او
زه هم ناچاره ستاسی دغه خفگان پر ځان آخلم ليکن هيله (خواهش) او اميد لرم چه د الله
تعالیٰ له لوری به د دغه خاتمه ښه کيږی او بالاخر هم دغه رښتيا ويل به می د الله تعالیٰ او د
رسول الله له قهره او غضبه وژغوری (بچ کړی) يا رسول الله! اصلی واقعه دغه ده چه ما سره د

دغي غیرحاضری هیڅ یو عذر نشته. په هغه وقت کښې چه زه ستاسی د هم رکابی له شرفه محروم شوم له هغه وقته څخه ماسواء په بل وقت کښې ماته هغسی دولت، شته فراخی او مقدرت نه ده په برخه شوی ، زه مجرم یم! تاسی واک (حق) او اختیار لرئ چه هر دول (طریقه) حکم زما په نسبت صادروئ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه «هم دغه یو سړی دی چه رښتیا خبره ئی وکړه ښه ده! ځه! او د الله تعالیٰ فیصلی ته منتظر اوسه!»، زه پاڅیدم او له تحقیقه راڅرگنده (ښکاره) شوه چه (هلال بن امیه) او (مرارة بن الربیع) دغه دواړه سړی د واقعی په اظهار کښې ما غوندی دی نو زمونږ دری واړو په نسبت رسول الله صلی الله علیه وسلم امر صادر کړ چه هیڅوک دی له دوی سره خبری نه کوی او تول دی تری بیل شی. لکه چه وروسته له دی نه هیڅ یوه مسلمان له مونږ سره خبری نه کولی او نه ئی زمونږ د سلام جواب راکاوه هغه دواړه خو په خپلو کورونو کښې کیناستل او هلته شپه او ورځ په ژړا او واویلا بوخت (مشغول) وو. زه لږ سخت او قوی وم نو د لمانځه لپاره مسجد ته حاضریدم او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته به می سلام اچاوه او د دوی مبارکو شونډو ته به می کاته چه آیا زما د سلام د جواب په مقابل کښې خوځیږی که نه؟ کله چه ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ته کتل نو هغو به ماته نه کتل، مخصوص اقارب، خورا (دیر) محبوب دوستان او خپلوان هم له ما څخه پردی شوی وو په دی منځ کښې یو ورځ یوه سړی د «غسان» د باچا خط ماته راکړ چه په هغه کښې زما په دغه مصیبت باندی د همدردی او خواخوږی اظهار کړی شوی وو. او ماته ئی بلنه راکړی وه چه د هغه ملک ته ورشم چه هلته به زما دیر ښه «هرکلی» او «ښه راغلی» او عزت او احترام کیږی کله چه می هغه خط له سره تر پایه ولوست په زړه کښې می وویل چه په دغه کښې هم زما بله آزموینه او مستقل امتحان دی په پای (انجام) کښې می هغه خط وسوځاوه وروسته له څلویښتو ورځو د رسالت له درباره یو نوی بل حکم راورسیده چه زه می له خپلی ښځی څخه هم بیل شم لکه چه خپلی کډی ته می وویل چه ته دی خپلی پلارگنی کره لاړه شه! او تر هغه پوری چه د پاک الله له درباره زما په نسبت کومه فیصله صادریږی ته هملته اوسه له گردو (تولو) څخه لویه اندیښنه او فکر ماته له دغی خبری څخه وه چه که زه په هم دغه حالت کښې مړ شم، نو رسول الله مبارک به می جنازه نه کوی او که بالفرض په هم دغو ورځو کښې (الله تعالیٰ دی نه کوی) پاک رسول الله وفات شی مسلمانان به ځما تر مړینی پوری له ما سره هم دغه وضعیت (حالت) کوی. او ځما مړی ته به هیڅوک نه نژدی کیږی لنده دا چه تر پنځوسو ورځو پوری زه په هم دغه مصیبت او ابتلا کښې اخته وم د پاک الله ځمکه سره له دیر ارتوالی پر ما تنگه شوه بلکه د ژوندانه دگر هم پر ما باندی بیخی تنگ شوی ؤ. ژوندون ماته له مرگ څخه سخت ښکاریده. چه یو ناڅاپه د «سلع» د غره له لوری یوه چغه وشوه «یا کعب بن مالک! ابشر یا کعب ځوی د مالک زیری دی په تا خوشاله اوسه» د دی غږ اوریدلو څخه سم د لاسه زه په سجده ولویدم، معلوم شو چه د شپی په آخره شومه کښې د پاک الله له لوری نبی علیه السلام ته خبر ورکړی شوی دی چه زمونږ توبه مقبوله شوه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له حضوره وروسته د صبا له لمانځه لویو اصحابو ته دغه اطلاع ورکړه شوه یو

سور زما په لوري په منده راغی، او دغه بشارت ئی ماته ورساوه مګر بل یوه سړی په ډیر اوچت آواز سره د غره له لوري هم دغه زیری راباندی وکړ. چه دغه غږ ماته د سور له راتللو څخه مخ کښی رارسیدلی وو، ما کالی (جامی) له ځانه وویستل او زیری راکوونکی ته می ورکړه او هغه می تینګ په غیږ کښی ونیوه بیا د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښی حاضر شوم خلق دلی دلی راتله او ماته ئی تبریکات راکول له مهاجرینو څخه حضرت طلحه رضی الله تعالیٰ عنه زما مخ ته ودریده، او مصافحه ئی راسره وکړه. د رسول الله څیره له ډیری خوشالی لکه سپوږمی داسی ځلیده. او وئی فرمایل چه: «الله تعالیٰ ستا توبه قبوله کړه» ما عرض وکړ چه: «د دغی توبی تتمه دا ده چه زه خپل ګرد (تول) مال او شته د الله تعالیٰ په لاره کښی صدقه کوم» دوی وفرمایل چه: «تول نه لږ څه د ځان لامله (له وجی) هم وساته!» لکه چه ما د خیبر برخه رابیله، او نور ګرد (تول) می صدقه کړل څرنګه چه یواځی د رښتیا ویلو له برکته ماته نجات په برخه شوی ؤ. نو ځکه می له خپله ځانه سره عهد وکړ چه په هر حال او هر وقت کښی به تل رښتیا وایم، او له سره به دروغ نه وایم د دغه عهد څخه وروسته ډیر لوی او سخت امتحانات راته پیښ شول. مګر لله الحمد زه تل رښتین وم، او له رښتیاؤ څخه می ژبه نه ده اړولی. او انشاء الله تر هغه پوری چه ژوندی یم له رښتیا څخه به خوله نه اړوم د هم دغی واقعی په لوری په دغو آیتونو کښی اشاره کړی شوی ده. ګواکی پر دغو دری واړو باندی د الله تعالیٰ ړومبنی مهربانی دغه وه چه ایمان او اخلاص ئی وربښلی ؤ، او له نفاقه ئی ساتلی ؤ اوس نوی مهربانی پری دا وشوه چه د نصوح د توبی توفیق ئی هم ور په برخه کړ او بیا ئی خپل لوری ته وبلل، او د هغو ګرد (تول) تقصیرات ئی ورمعاف کړل.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَكُونُوا۟ مَعَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿١١٩﴾

---

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مومنانو) وویریږئ تاسی له الله (او هسی مخالفت مه کوئ!) او اوسئ سره له صادقانو (چه محمد او اصحاب ئی دی)

---

**تفسیر:** یعنی له رښتینو سره صحبت وکړئ! او د هغو په شان کارونه کوئ! او وګورئ چه دغه دری سړی د رښتیا ویلو په سبب وبښل شول او مقبول وګرځیدل ( او همیشه اوسئ تاسی له رښتینو سره په ایمان یا په عهد یا نیت او قول یا په دین د خدای یا په توبه کښی ) منافقانو دروغ وویل او د الله تعالیٰ ویره ئی له خپلو زړونو څخه وویستله نو د (درک اسفل) مستحقان شول. (له صادقینو څخه مقصد پخپله رسول الله او د ده لوی اصحاب دی یعنی له رسول الله او د ده له لویو اصحابو رضی الله تعالیٰ عنهم او ملګرو سره ملګری اوسئ! او مخالفت تری مه کوئ! ځینی وائی چه صادقین ابوبکر الصدیق او عمر الفاروق دی. ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه وائی

چه حضرت علی تری مطلوب دی. علی‌الاکثر دغه صادقین، راشده خلفاء بولی په تفسیر وحیدی کښې لیکلی دی چه سید علامه رحمة الله علیه ویلی دی له دی آیت نه معلومه شوه چه اجماع حجت دی).

مَا كَانَ لِأَهْلِ الْمَدِينَةِ وَمَنْ حَوْلَهُم مِّنَ الْأَعْرَابِ أَن يَتَخَلَّفُوا عَن رَّسُولِ اللَّهِ وَلَا يَرْغَبُوا بِأَنفُسِهِمْ عَن نَّفْسِهِ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ لَا يُصِيبُهُمْ ظَمَأٌ وَلَا نَصَبٌ وَلَا مَخْمَصَةٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا يَطَئُونَ مَوْطِئًا يَغِيظُ الْكُفَّارَ وَلَا يَنَالُونَ مِنْ عَدُوٍّ نَّيْلًا إِلَّا كُتِبَ لَهُم بِهِ عَمَلٌ صَالِحٌ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ ﴿١٢٠﴾

نه دی روا دپاره د خلقو د مدینی او هغه چاته چه چاپیر د دوی دی له (صحرائی) عربو څخه دا کار چه بیرته پاتی شی دوی (یعنی نه دی بیرته پاتی کیږی) له رسول د الله نه (په تلو د غزا کښې) او نه (دا چه) مینه به کوی دوی په ځانونو خپلو له نفسه د رسول نه (چه خپل ځانونه د رسول له ځانه زیات وبولی او خپل ځانونه د جهاد له شدائدو څخه وساتی) دغه (وجوبی متابعت او نهی د مخالفت) په سبب د دی دی چه بیشکه دوی چه دی نه رسیږی دوی ته تنده او نه ستومانی او نه لوږه په لاره د الله کښې او نه ږدی دوی قدمونه پر کوم ځای (له ځایونو د کفارو داسی قدمونه) چه په قهر سره راولی (دغه قدمونه) کفارو لره او نه رسیږی دوی هیڅ دښمن ته په رسیدلو سره (چه وژل یا بندیان کول یا لوټ کول د هغو دی) مګر لیکلی شوی دی دوی ته په سبب د هر یوه له دغو مذکوره‌ؤ شیانو عمل نیک، بیشکه چه الله نه خرابوی اجر (ثواب) د نیکی کوونکو.

**تفسیر:** یعنی داسی نه دی په کار چه رسول الله صلی الله علیه وسلم تکلیفونه او ربړونه (زحمتونه) وګالی (برداشت کړی) او مونږ په آرامی او هوسائی(آسانئ) سره کینو. په حدیث کښې راغلی دی چه ابوخثیمه رضی الله عنه هم د «تبوک» له غزوی څخه بیرته پاتی شوی ؤ. او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د روانیدلو څخه وروسته خپل باغ ته ولاړ او هلته په یوه ګڼ یخ

سوری کښې پر خپل پالنګ باندی وغځيده د ده خپله ښځه چه ډيره حسينه او جميله وه په مخ کښې ګرځيدله او په شاؤخوا ځمکې باندی ئې اوبه شيندلی او ښه ئې يخه کړی وه او بيا ئې پری پوځې (بوريا) وغوړوله د خرماؤ تازه واښکی (وږی) ئې په مخ کښې ورته کيښودل يخې اوبه او نور خوندور خواړه ئې ورحاضر کړل يو ناڅاپه ابوخثيمه رضی الله تعالىٰ عنه د دی عيش او استراحت د سامان د ليدلو څخه وترهيده او د بريښنا په شان د ده په وجود کښې يو اور بل شو او له خپله ځانه سره ئې وويل: توبه له دغسی ژوندون چه زه په يخ سوری کښې ناست يم او يخې اوبه څښم او د يخې وپالی او سيوری او باغ او ميوی څخه مستفيد کيږم او د پاک الله محبوب رسول صلی الله عليه وسلم په داسی سخته ګرمی او تودی سيلی کښې د تندی او لوږی په شدت په ډاګ او چول بيابان، کندو او رغو کښې غزا ته رهی (روان) دی. په مجرد د پيدا کيدلو د دی خيال سم د لاسه خپل د سورلی اوښه ئې وغوښتله او چاړه ئې په خپل غاړه کښې واچوله او نيزه ئې په لاس کښې واخيستله او د غازيانو د پلو په کرښو رهی (روان) شو. د ده اوښه ډيره ګرندی د باد په شان تله بالاخر د غازيانو له لښکر سره يو ځای شو، رسول الله صلی الله عليه وسلم له لری څخه وليد چه يو سور د شګو پر کوړيو ډير ژر ژر رادرومی نو وئې فرمايل: «کن ابا خثيمه ـ شه ابو خثيمه» يعنی ابو خثيمه دی وی، لږ څه وروسته ګردو (تولو) وليده چه همغه سور ابوخثيمه ووت رضی الله تعالىٰ عنه وعن سائرالصحابة و رضوا عنه.

﴿ ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ لَا يُصِيبُهُمْ ﴾ الآية ـ دغه وجوبی متابعت او نهی د مخالفت په سبب د دی دی چه بيشکه دوی چه دی نه رسيږی دوی ته تنده او نه ستومانی او نه لوږه په لاره د الله کښې او نه ږدی دوی قدمونه په کوم ځای له ځايونو د کفارو داسی قدمونه چه په قهر راولی دغه قدمونه کفارو لره او نه رسيږی دوی هيڅ دښمن ته په رسيدلو سره چه وژل يا بنديان کول يا لوټ کول د هغو دی مګر ليکلی شوی دی دوی ته په سبب د هر يوه له دغو مذکوره‌ؤ شيانو عمل نيک بيشکه چه الله نه خرابوی اجر او ثواب د نيکی کوونکو.) سره له دی چه په دغو پيښو کښې اکثره شيان لکه لوږی، تندی رسيدل او تکاليف او ربړونه (زحمتونه) ګالل (برداشت کول) اختياری امر نه دی. سره له دی د جهاد د نيت په برکت د دغو غيراختياری شيانو په مقابل کښې هم صالحه اعمال د دوی د حسناتو په دفتر کښې ليکلی کيږی او په هغو باندی پاک الله دوی ته لوی ثواب او ښه اجر مرحمت فرمائی

---

وَلَا يُنفِقُونَ نَفَقَةً صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً وَلَا يَقْطَعُونَ
وَادِيًا إِلَّا كُتِبَ لَهُمْ لِيَجْزِيَهُمُ اللَّهُ أَحْسَنَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٢١﴾

---

او نه لګوی دوی (په جهاد کښې) هيڅ يوه نفقه وړه (يعنی لږه) او نه لويه
او نه قطع کوی هيڅ يو ميدان (يا کنده يعنی ځمکه په کفارو پسی) مګر

خو ليكلي شي (ثواب د) هغه دوى ته (دغه ليكل) لپاره د دى چه جزا ورکړى دوى ته الله د هغو ډيرو ښو نيکو کارونو چه وو دوى چه کول به ئې (په لاره د الله کښې)

تفسير: (يعنى نه صرفوى دوى صرفول لږ لکه پاتى نمرى، يا نغل د آس يا کوم پاو غله يا ميوه لکه ابو عقيل رضى الله تعالىٰ عنه په شان او نه ډيره لکه عثمان بن عفان او عبدالرحمٰن رضى الله تعالىٰ عنهما پشان او نه قطع کوى دوى کومه کنده په کفارو پسى مگر چه ليکلى کيږى دوى ته ثواب د هغه او دا ليکل لپاره د دى چه جزا ورکړى دوى ته الله د هغو ډيرو غورو او نيکو کارونو چه وو دوى چه کول به ئې په لاره د الله کښې) يعنى د ډير ښه عمل به ډيره ښه جزا ورکوى.

ښکاره دى د غازيانو لوى عزت     په ژوندون د دى دنيا او آخرت

کله چه پر متخلفينو د جهاد دغسى عتابونه راغلل نو مومنانو پخپلو منځونو کښى سره وويل چه که پس له دى نه بيا غزا پيښه شوه نو تول به ځو له ځرمى (سيلمى) غزا ته نو په دغه مناسبت دغه آيت نازل شو:

وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُوا كَافَّةً ۚ فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَائِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ ﴿١٢٢﴾

او نه دى مؤمنان داسى چه ووځى تول له ځرمى «سيلمى» (غزا يا د علم طلب ته په هر وقت کښى)، نو ولې نه ځى له هرى ډلى له دى مؤمنانو نه يو تولى (او نور دى پاتى شى په کور) دپاره د دى چه پوه پيدا کړى دغه (تلونکى) په دين کښى او دپاره د دى چه خبر ورسوى قوم خپل ته کله چه بيرته راشى دوى په لورى د هغوى لپاره د دى چه هغوى وويريږى (له الله او ځانونه وژغورى (بچ کړى) له معاصيو)

تفسير: په تيرو رکوعاتو کښى «جهاد» ته د تللو فضيلت او «جهاد» ته د نه تللو د ملامتى ذکر ؤ. ممکن ؤ چه څوک داسى گڼلى وى چه تل په هر جهاد کښى د گردو (تولو) مسلمانانو وتل فرض العين دى، په دغه آيت کښى ئې وفرمايل چه تل دغسى عمومى وتلو ته څه ضرورت نشته.

او نه مصلحت دی چه ټول مسلمانان سره یو دم د جهاد لپاره ودرېږی او ور ووځی بلکه دا مناسب دی چه له هرې قبیلې او هر قوم څخه یو ډله «جهاد» ته ووځی او نور ګرد (ټول) دی پخپلو کارونو او ضروریاتو کښی مشغول او لګیا اوسی. اوس که نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خپل نفیس نفس «جهاد» ته تشریف یوسی، نو له هر قومه څخه هغه جماعت چه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ځی دوی به د نبی الله په صحبت کښی په سلهاؤ حوادثو او واقعاتو عبور کوی او د دینیه ؤ احکامو پوه او علم به حاصل کړی، او د بیرته راتګ په وخت کښی به خپلو پاتی شویو اقوامو ته د خپل زیات علم او تجربی په بناء له نیکی او بدی څخنی خبر ورکوی او فرض ئی کړئ که رسول الله صلی الله علیه وسلم به خپله په مدینی منوری کښی تشریف ولری نو هغه خلق چه جهاد ته نه دی تللی. د دوی له صحبته مستفید کیږی، او دینی خبری ورځنی زده کوی. او د مجاهدینو په غیاب کښی به هغه د وحی او معرفت خبری چه اوریدلی او زده کړی ئی دی، هغه به مجاهدینو ته د بیرته راتګ په وقت کښی آوروی، او دوی به پری پوهوی د آیت په الفاظو کښی د عربی ترکیب په اعتبار دواړه احتماله شته کما فی روح المعانی وغیره. حضرت شاه صاحب لیکی: «ښائی چه له هره قومه څخنی څه خلق او سری د پاک رسول صلی الله علیه وسلم په صحبت کښی واوسی چه دینی علم زده کړی. او نورو پاتی شویو ته ئی هم وروښیی. اوس رسول الله مبارک په دغی دنیا کښی نه دی موجود لیکن دینی علوم او علماء موجود دی. او د علم طلب فرض کفائی دی. او جهاد هم فرض کفائی دی. هو! که په کوم وقت کښی د امام له لوری نفیر عام وشی، نو فرض العین ګرځی په «تبوک» کښی هم دغه صورت ؤ نو ځکه د هغو کسانو څخنی چه بیرته پاتی شوی وو پوښتنه وشوه والله اعلم. د ابو حیان رحمة الله علیه په نزد دغه آیت د «جهاد» لپاره نه دی بلکه د علم د طلب په مورد کښی دی د جهاد او طلب العلم د آیتونو په منځ کښی دا مناسبت دی چه په دواړو کښی خروج فی سبیل الله دی او د دواړو غرض او غایه د دین احیاء او د کلمة الله اعلاء ده. په یوه کښی (چه جهاد دی) د توری په ذریعه او په بل کښی (چه د علم طلب دی) د قلم او ژبی او نورو په وسیله.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ ٱلْكُفَّارِ وَلْيَجِدُواْ فِيكُمْ غِلْظَةً ۚ وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلْمُتَّقِينَ ﴿۱۲۳﴾

---

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو) جنګ کوئ تاسی له هغو خلقو سره چه نژدی (او خرمی) دی تاسو ته له کفارو او ودی مومی دوی په تاسی کښی کلکوالی (زیږ والی، تندی په اقوالو او افعالو)، او پوه شئ (ای مؤمنانو) چه بیشکه الله له پرهیزګارانو سره دی (په اثابت، حفاظت او اعانت کښی)

**تفسير:** جهاد فرض كفائي دى چه له طبيعي ترتيبه سره موافق ړومبنى له هغو كفارو سره وكړ شي چه مسلمانانو ته ډير نژدى وى، بيا له هغو سره چه دوى ته نژدى وى، هم داسي درجه په درجه ښائى چه د جهاد حلقه او دائره وسيعه او ارته شي. د نبى كريم عليه افضل الصلوٰة والتسليم او د راشدهؤ خلفاؤ رضى الله تعالىٰ عنهم جهاد په هم دغه ترتيب سره شوى دى. په دفاعي جهاد كښي هم د فقهي عالمانو هم دغه ترتيب غوره كړى دى. چه پر هغه اسلامى ملك باندى چه كفار چپاو (حمله) وروړى د هغه ملك په مسلمانانو واجب دى چه د هغو دفاع وكړى. كه هغوى كافى نه وى يا لتى (ناراستى) يا سستى كوى، نو په هغو مسلمانانو جهاد واجبيږى چه دوى ته متصل او نژدى پراته وى كه هغه هم كافى نه وى. نو بيا پر هغو هم لازميږى چه له دوى سره متصل پراته وى هم داسي كه ضرورت واقع شي نو درجه په درجه له مشرقه نيولى تر مغرب پورى به جهاد پرله پسى فرضيږى.

«وليجدوا فيكم غلظة ـ او ودى مومى دغه كفار په تاسى كښي اى مسلمانانو كلكوالى تندى زيږ والى او هم په اقوالو هم په افعالو كښي او د جنگ په وقت كښي ښائى چه بالخاصه له تاسى څخه صبر او شجاعت او ميړانه (بهادرى) ښكاره شي او سختى راولوځ تاسى پر كفارو باندى. په رښتيا سره چه) د مؤمن شان دا دى چه د خپل اسلامى ورور په مقابل كښي نرم بردبار وى او د الله تعالىٰ او د رسول الله د دښمنانو په معاملى كښي ډير كلك، تند، ځيږ او شديد وى. تر څو د هغه د نرمى او سستى له ليدلو څخه دښمنان پرى زړور او جرئ نشي: ﴿أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ﴾ (٦ جزء د المائدى ٥٤ آيت (٨) ركوع) ﴿وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ﴾ (٢٦ جزء د الفتح ٢٩ آيت (٤) ركوع) ﴿جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ﴾ (١٠ جزء د التوبة ٧٣ آيت (١٠) ركوع)

﴿وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ﴾ او پوه شئ اى مؤمنانو چه بيشكه الله له متقيانو پرهيزگارانو سره دى په اثابت حفاظت او اعانت كښي) يعنى د الله تعالىٰ ځينى ويريدونكو كسانو ته نه ښائى چه له هيڅ كوم يوه كافر قوم څخه وويريږى يا د هغو په مقابل كښي ځان ښكته وگنى او هر څومره چه مسلمانان د الله تعالىٰ څخه وويريږى، تر هغه وقته پورى او په همغى اندازى دوى به كفارو باندى برى او غلبه مومى اى پاک الله ته زمونږ زړونه له خپلى ويرى او مينى څخه ډک كړى!

---

وَإِذَا مَا أُنزِلَتْ سُورَةٌ فَمِنْهُم مَّن يَقُولُ أَيُّكُمْ زَادَتْهُ هَٰذِهِ إِيمَانًا ۚ فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَزَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَهُمْ يَسْتَبْشِرُونَ ﴿١٢٤﴾ وَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم

مَّرَضٌ فَزَادَتۡهُمۡ رِجۡسًا إِلَىٰ رِجۡسِهِمۡ وَمَاتُواْ وَهُمۡ كَٰفِرُونَ ۝١٢٥

او کله چه نازل کړی شي کوم سورت (برخه د قرآن) نو ځينی له دغو منافقانو هغه دی چه وائی (په منځ خپل کښی تمسخراً) کوم يو دی له تاسو چه زيات کړ هغه ته دی سورت ايمان (وفرمايل الله) نو هر څه هغه کسان چه ايمان لرونکی دی نو زيات کړ (دغه سورت) دوی ته ايمان حال دا چه دوی خوشاليږی. او هر څه هغه کسان چه په زړونو د دوی کښی مرض (د نفاق، شک او کفر) دی نو زياتوی (دا سورت) دوی ته ګندګی پر ګندګی د دوی (چه کفر او شک دی) او مری دوی په دی حال چه دوی کافران دی.

**تفسير:** هر کله چه کوم قرآنی سورت نازليده نو منافقينو به په خپلو منځونو کښی يو له بله سره، يا له ځينو ساده او ضعيف الاعتقادو مسلمانانو سره د استهزاء او تمسخر له لوری ويل: ځرنګه صاحبه! په تاسی کښی د کوم کوم سړی ايمان دغه سورت در زيات کړ؟ مطلب به ئی داسی ؤ چه معاذ الله په دغه سورت کښی څه شی ايښی دی؟ او کوم حقائق او معارف پکښی شته چه د ايمان او ترقی موجب وګڼل شی؟ پاک الله د دوی د دغی وينا داسی جواب وفرمايه: بيشکه چه د مؤمنانو ايمان ته د الله تعالیٰ د کلام له آوريدلو څخه ترقی، تازه‌ګی او تزئيد ور په برخه کيږی او د هغو زړونه مسرور او منشرح کيږی هو! د هغو کسانو په زړونو کښی چه د کفر او نفاق رنځوری او ګندګی وی. نو د دوی په رنځوری او ګندګی کښی تزئيد کيږی، تر دی حده پوری چه دغه رنځوری به د دوی ساه وباسی بيا به ئی پريږدی.

د باران طبع ښکاره ده بی له ده نه هيڅ ژوند نشته

باغ کښی ګل تری زرغونيږی په شوری کښی ئی خوند نشته

حضرت شاه صاحب په بل ډول (طريقه) سره د دی آيت تقرير کړی: «يعنی د الله تعالیٰ کلام چه د هر مسلمان د زړه د خطری سره موافق واقع کيږی، نو دوی خوښيږی، او وائی سبحان الله! دغه آيت زما ايمان او يقين لا زيات کړ. هم داسی کله چه په کوم سورت کښی د منافقينو پټ عيوب ښکاره شی، نو دوی له ډيری شرمندګی ځانونه ناغرضه اچولی وائی بيشکه دغه کلام زمونږ يقين او ايمان زيات کړی دی. ليکن ځرنګه چه دغه وينا له خوښی او انشراح څخه نه وه او يواځی د خجالت د لری کولو لپاره ئی ويل نو ځکه ئی داسی توفيق ونه موند چه وروسته توبه وکړی او په اخلاص د زړه او رښتيا سره د حق پيروی وکړی. بلکه لا له پخوا څخه زيات د خپل عيب د پټولو په فکر او تدبير کښی لويدل. هم دغه دی په ګندګی باندی ګندګی عيب والاؤ ته لازم دی چه د نصيحت له آوريدلو څخه وروسته د خپل ځان اصلاح وکړی نه دا چه بالعکس له ناصحه خپل ځان پټ کړی.

أَوَلَا يَرَوْنَ أَنَّهُمْ يُفْتَنُونَ فِي كُلِّ عَامٍ مَّرَّةً أَوْ
مَرَّتَيْنِ ثُمَّ لَا يَتُوبُونَ وَلَا هُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٢٦﴾

آیا (فکر نه کوی) او نه ګوری دوی چه بیشکه دوی مبتلا کولی شي (په دول دول (قسم قسم) مصائبو) په هر یوه کال کښې یو کرت یا دوه کرته بیا له سره هغوی نه کوی توبه (له نفاقه) او نه دوی پند اخلی (په دی ابتلاء)

**تفسير:** يعنې لږ تر لږه په هر كال كښې يو ځلي يا دوه ځلي دغه منافقين په فتنه او آزموينه كښې غورځول كيږي مثلاً قحط رنځوري او په نورو ارضي يا سماوي آفتونو كښې مبتلا كيږي. يا د پاك رسول الله په مباركه ژبه د دوى نفاق علانيه او ښكاره څرګنديږي يا د جنګ او جهاد په وخت كښې د دوى ويره، بې‌زړه‌توب او نفاق او د زړه څيره ښكاره كيږي مګر دوى داسې بې‌حيا او بدباطن واقع شوي دي چه له سره ئې سترګې نه شرميږي، او سره له تنبيهاتو بيا هم په سمه لاره نه راځي او نه له خپلو پخوانيو خطاؤ څخه توبه وباسي او نه وروسته له دي نه پند او نصيحت قبلوي.

وَإِذَا مَا أُنزِلَتْ سُورَةٌ نَّظَرَ بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ هَلْ يَرَاكُم مِّنْ أَحَدٍ ثُمَّ
انصَرَفُوا ۚ صَرَفَ اللَّهُ قُلُوبَهُم بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُونَ ﴿١٢٧﴾

او کله چه نازل کړی شي کوم سورت (چه پکښې عیب وی د منکرینو) نو وګوری ځینې د دوی ځینو نورو ته (په قهر له آوریدلو د عیبونو خپلو، حال دا چه وائي) آیا وینی تاسی کوم یو (د مسلمانانو که چا دوی نه لیدل نو پاڅیدل به) بیا به لاړل (له مجلسه)، ګرځولی دی الله زړونه د دوی (له تولو نیکیو) په سبب د دی چه دوی هسی قوم دی چه نه پوهیږی (په ګټه (فائده) او تاوان خپل)

**تفسير:** يعنې د نبي صلى الله عليه وسلم له مجلسه څه ګرځي الله تعالىٰ د دوى زړونه ګرځولي دي چه دوى له خپله جهله او حماقته د ايمان او عرفان د خبرو پوهيدل او قبلول نه غواړي.

لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ

مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢٨﴾

خامخا په تحقیق راغلی دی تاسی ته یو رسول له جنسه ستاسی چه ډیر سخت
دروند دی پر ده باندی هغه کار چه تاسی تکلیف مومئ (له هغه) ډیر
حرصناک دی په (هدایت د) تاسی خاص پر مؤمنینو باندی نهایت شفیق ډیر
مهربان دی.

**تفسیر:** (یعنی خامخا په تحقیق راغلی دی تاسو ته ای انسانانو له جنسه د تاسی، یا خامخا په تحقیق درغلی دی تاسی ته ای عربو له هم ژبی د تاسی، یا خامخا په تحقیق درغلی دی تاسی ته ای قریشو له نسب د تاسی څخه رسول او استاځی) چه د هغه حسب، نسب، اخلاق، اطوار، دیانت او امانت او نور ګرد (ټول) صفات تاسو ته معلوم دی، او ښه پری پوه او واقف یئ (چه ډیر سخت او دروند دی په ده هر هغه کار چه په محنت او مشقت کښی لویږئ پری تاسی) یعنی له هر هغه شی څخه چه تاسی ته تکلیف یا سختی رسیږی، هغه پر ده باندی ډیر سخت او دروند دی په هری ممکنی طریقی سره رسول الله هم دا غواړی چه د ده پر امت باندی آسانی وی. او دنیوی او اخروی عذاب څخه محفوظ پاتی وی نو ځکه هغه دین چه دوی له خپله ځانه سره راوړی دی هغه سهل او آسان او بی تکلیفه او پوست دی. او خپلو کاردارانو ته هم دغه نصیحت کوی چه «یسروا ولا تعسروا آسانی کوئ! سختی مه کوئ پر خلقو».

«حریص علیکم» الایه ـ ډیر حرصناک دی په هدایت د تاسی ای مؤمنانو یعنی په ایمان او صلاحیت د تاسی پر مؤمنانو باندی که له تاسی وی که له پخوانیو امتونو وی نهایت شفیق او مهربان دی) یعنی ستاسی د خیر غوښتلو او نفع رسولو خاص اشتیاق او بیقراری د دوی په زړونو کښی شته هغه خلق چه د دوزخ په لوری منډی وهی هغوی له ملاوو څخه پرله پسی نیسی او د هغه څخه ئی ستنوی (منع کوی). د ده لوی کوښښ او آرزو دا ده چه د الله تعالیٰ بنده‌ګان اصلی ښیګنو (نیکو) ته ورسیږی، او حقیقی بری ومومی د جهاد او د نورو مقصد هم یواځی وینی تویول نه دی. بلکه د مجبوریت په حالت کښی د ډیری سختی جراحی (آپریشن) په وسیله د بنی نوع انسانی فاسد او مسموم اعضا پری کاوه شی. او خراب جراثیم تری تعقیم او رټل کیږی او د عمومی مزاج په صحت او اعتدال سره ساتی.

کله چه رسول اکرم په دغی اندازی پر ګرد (ټول) عالم مهربان او د دوی خیر غوښتونکی دی، نو ظاهر دی چه دوی مخصوص د ایماندارانو پر حال بی‌اندازی شفیق او مهربان دی.

فَإِن تَوَلَّوْا فَقُلْ حَسْبِيَ اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ
عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ۖ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ ﴿١٢٩﴾

نو كه وگرځيدل دا (خلق له ايمان راوړلو په تا باندی) نو ووايه كافي دی ماته الله نشته هيڅ لايق د عبادت مگر هم دی، (خاص) پر هم ده توكل (اعتماد) كړی دی ما حال دا چه هم دی رب (مالک) د عرش عظيم دی.

**تفسير:** يعني كه ستاسی د دی عظيم الشان شفقت او خير غوښتلو او زړه سوی قدر، خلق ونه كړی نو هيڅ پروا نشته فرض ئی كړئ كه گرد (تول) جهان له تاسی څخه مخ وگرځوی نو يواځی پاک الله تاته بس او كافي دی، چه ماسوا له هغه بل هيڅوک نه د عبادت او د بنده گی وړ (مستحق) او لائق، او نه د توكل او اعتماد مستحق كيدی شی، ځكه چه د ځمكی او آسمان سلطنت او د عرش عظيم (شهنشاهی تخت) مالک هم دی دی او گردی (تولی) نفعی او اضرار، هدايت او ضلالت د هم ده په قدرت كښی دی.

**فائده:** په ابو داؤد شريف كښی له ابوالدرداء رضی الله تعالیٰ عنه څخه روايت دی: هر هغه سری چه صبا او بيگاه اوه اوه ځلی ﴿ حَسْبِيَ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ﴾ ولولی، الله تعالیٰ به د ده د گردو (تولو) هممو او غممو دپاره كافي شی باقی د عرش د عظمت په متعلق كه مو د تفصيلاتو د لوستلو شوق وی، نو د هم دی آيت په ذيل او لمن كښی دی د «روح المعانی» مضامين ولوستل شی!

**تمت سورة التوبة بفضل الله تعالیٰ وحسن توفيقه اللهم تب علينا واجعل لنا براءة من النار انک انت التواب الرحيم.**

سورة يونس مكية وهی مائة وتسع آيات واحد عشر ركوعا
عدد تلاوتها «۱۰» وعدد نزولها «۵۱» نزلت
بعد بنی اسرآئيل
د «يونس» سورت مكی دی يو سل او نهه آيتونه او يوولس ركوع لری. په تلاوت
كښی (۱۰) او په نزول كښی (۵۱) سورت دی د «بنی اسرائيل»
له سورت څخه وروسته نازل شوی دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع په نامه د الله چه خورا (ډير) مهربان ډير رحم والا دی.

الٓرٰ قف تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ ①

دغه (سورت) آيتونه دی د كتاب (قرآن) ډک له حكمته

**تفسیر:** دغه آیتونه د داسې مضبوط او محکم کتاب دي چه د هغه هره خبره پخه او مضبوطه ده الفاظ ئې د دې لامله (له وجې) محکم او مضبوط دي. چه تل له تبدیلې او تحریفه محفوظ دي علوم ئې له دې جهته مضبوط او پاخه دي چه ډیر زیات سم له عقله او حکمته سره دي احکام ئې له دې سببه ښه او جید دي چه وروسته له دې بل کوم ناسخ کتاب راتلونکې نه دی اخبار او قصص ئې هم بیخي ښه او درست او د واقعي سره موافق دي. کله چه علیم او حکیم الله دغه پاک کتاب د خپل کامل علم په زور رانازل کړی دی نو ولې به هم داسې نه وي.

---

أَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا أَنْ أَوْحَيْنَآ
إِلَىٰ رَجُلٍ مِّنْهُمْ أَنْ أَنذِرِ ٱلنَّاسَ وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَنَّ لَهُمْ
قَدَمَ صِدْقٍ عِندَ رَبِّهِمْ ۗ قَالَ ٱلْكَٰفِرُونَ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٌ مُّبِينٌ ۝٢

---

آیا دی خلقو ته تعجب (له دې خبرې) چه وحې وکړه مونږ یو سړي ته له (ښتینو د) دوی نه چه وویروه خلق (کفار له عذاب د الله) او زیری ورکړه هغو کسانو ته چه ایمان ئې راوړی دی چه بیشکه شته دوی ته مرتبه لویه ښتینې (د قول او د عمل خپل) په نزد د رب د دوی، نو وائي دا کافران چه بیشکه دغه (محمد) خامخا کوډګر دی ښکاره

---

**تفسیر:** یعنې په دغه کښې د حیرانتیا او تعجب څه خبره ده؟ چه پاک الله د انسانانو د اصلاح او هدایت لپاره همغسې یو انسان مامور کړی، او هغه ته ئې خپل داسې پیغام ورلیږلی وي چه پر هغه نور کسان بلاواسطې خبر نشي او دغه رسول صلی الله علیه وسلم ګرد (تول) مخلوق د خالق د نافرمانۍ د مهلکو نتائجو او عواقبو څخه خبروي او د الله تعالیٰ د احکامو منونکو ته زیری او بشارت ورکړي چه د رب العزت په دربار کښې د صالحو نیکو اعمالو په برکت په ایمان او طاعت او شفاعت د حضرت او نورو ډیرو لویو مرتبو او خورا (ډیرو) هسکو درجو ته رسیږي. او ډیر اعلیٰ سعادت او اقصی کرامت او ازلی فلاح او ابدی صلاح د دوی په برخه کښې لیکلې شوی ده. (نو وائي کافران پس له راتلو د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم چه په تحقیق دا سړی خامخا ساحر او کوډګر دی ښکاره) یعنې قرآني وحې ته د ده د فوق العاده مؤثریت او بې نهایته بلاغت له سببه کوډې (جادو) او د هغه راوړونکي ته ساحر (کوډګر) وائي.

إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ يُدَبِّرُ الْأَمْرَ مَا مِن شَفِيعٍ إِلَّا مِن بَعْدِ إِذْنِهِ ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿۳﴾

بیشکه چه رب ستاسی الله دی هغه (الله) چه پیدا کړی ئی دی آسمانونه او ځمکه (په کامله قدرت خپل سره) په شپږو ورځو کښې بیا ئی استویٰ وکړه پر عرش باندی تدبیر کوی د تولو کارونو (په بالغه حکمت خپل سره)، نشته هیڅ شفیع (چه شفاعت وکړی شی په ورځ د قیامت کښې) مگر وروسته له اذنه د الله دغه الله (چه موصوف دی په دی صفاتو) رب ستاسی دی نو عبادت کوئ تاسی د هم ده، آیا (فکر نه چلوئ) نو پند نه اخلئ؟

**تفسیر:** (فی ستة ایام) یعنی په دومره یوه مدت کښې چه د شپږو ورځو سره برابر ؤ (په تعین د مقدار د دغو (٦) ورځو کښې د علماؤ په منځ کښې سره اختلاف دی د اکثرو علماؤ په نزد له دغو ایامو څخه مراد مقدار د ایام د ورځو د دنیا دی چه متقرر ؤ په علم د الله کښې ) او یوه ورځ د (ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه) د تفسیر سره موافق د یو زر کلونو سره برابره اخیسته کیږی. گواکی په شپږو زرو کالو کښې اسمان او ځمکه او نور گرد (تول) سره تیار شوی دی. بلاشبه پاک الله قادر ؤ چه په یوه آن کښې ئی گرد (تول) مخلوقات پیدا کړی وی، لیکن د ده د حکمت اقتضاء هم داسی وشوه چه په تدریج سره ئی پیدا کړی ښائی چه خپلو بندگانو ته په دی سره ښوونه کوی چه سره له قوته او قدرته لازم دی چه هر کار دی په پوهی تأنی او متانت سره وکړی، او هم په تدریجی تخلیق کښې د یو ناڅاپه او دفعتاً پیدا کولو په نسبت د دغی خبری اظهار په ښه ډول (طریقه) سره کیږی چه الله تعالیٰ بالاضطرار بلا اختیار فاعل نه دی بلکه د هر څیز وجود بالکلیه د ده له مشیت او اختیار سره تړلی دی هر کله چه وغواړی او په هر ډول (طریقه) چه وغواړی همغسی ئی کوی.

«ثم استوی علی العرش» بیا ئی استویٰ وکړه په عرش باندی) د الاعراف د سورت د (۷) رکوع کښې هم داسی آیت تیر شوی دی، دلته دی هم د هغو فوائدو څخه فائده واخیستله شی.

«یدبرالامر» تدبیر کوی د تولو کارونو په بالغه حکمت خپل سره) یعنی د گردو (تولو) مخلوقاتو تدبیر او انتظام د الله تعالیٰ په بالغه حکمت او قاهره قوت کښې دی.

«ما من شفیع الامن بعد اذنه» نشته هیڅ شفیع چه شفاعت وکړی شی په ورځ د قیامت کښې مگر شفاعت کولی شی وروسته له اذنه د الله) یعنی شریک او حصه دار د ده په الوهیت کښې څوک چیری کیدی شی هم دغه تش سپارش هم د ده په لوی دربار کښې بی د ده د حکم او اجازی

څخه امکان نه لري او هيڅوک بې د الله تعالیٰ د ارادې څخه د سپارښت دپاره هم شوندي نشي خوځولی.
«ذلکم الله ربکم» الآيه دغه الله چه موصوف دی په دې صفاتو رب ستاسې دی نو عبادت کوئ د هم ده، آيا فکر نه چلوئ نو پند نه آخلئ تاسو) يعنې ښه فکر وکړئ چه د داسې رب څخه ماسواء چه صفات ئې پاس بيان شول، بل څوک شته چه هغه د بندګي او عبادت وړ (لائق) وي؟ بيا نو تاسې څرنګه جرائت او څغردې (ضد) کولی شئ چه د هغه خالق، مالک، مطلق شهنشاه او برحق حکيم له احکامو او د ده د رسول له احکامو څخه محض د وهمونو او ګمانونو په اثر انکار، او هغه ګرد (تول) سره دروغجن کوئ؟

---

إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا ۖ وَعْدَ اللَّهِ حَقًّا ۚ إِنَّهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ لِيَجْزِيَ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ بِالْقِسْطِ ۚ وَالَّذِينَ كَفَرُوا لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيمٍ وَعَذَابٌ أَلِيمٌ بِمَا كَانُوا يَكْفُرُونَ ﴿٤﴾

---

خاص هم ده ته ورتله ستاسې دی د تولو وعده کړې ده الله وعده حقه، بيشکه دی اول پيدا کوي دا مخلوق بيا ژوندي کوي ئې (پس له مرګه) لپاره د دې چه جزا ورکړي هغو کسانو ته چه ايمان ئې راوړی دی او کړي ئې دي ښه (عملونه) په عدل، انصاف سره (چه خورا (ډيره) وړه نيکي هم نه ضائع کيږي)، او هغه کسان چه کافران شوي دي شته دوی ته څښل له ايشيدلو اوبو او عذاب دی دردناک په سبب د دې چه وو دوی چه کافران کيدل.

---

**تفسير:** يعنې له هم ده څخه ستاسې ابتداء او د هم ده په لوري ستاسې انتهاء ده او په آخر کښې تول د ده په لوري ورتلونکي يئ بيا د ده او د ده د رسولانو د احکامو څخه څرنګه غاړه غړوئ.

---

هُوَ الَّذِي جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَاءً وَالْقَمَرَ نُورًا وَقَدَّرَهُ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُوا عَدَدَ السِّنِينَ وَالْحِسَابَ ۚ مَا خَلَقَ اللَّهُ ذَٰلِكَ إِلَّا بِالْحَقِّ ۚ يُفَصِّلُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٥﴾

الله هغه ذات دی چه ګرځولی ئی دی (تکلیځ د ) لمر روڼ (ځلیدونکی) او (تیکلیځ د ) سپوږمی روښانه او مقدر (مقرر) کړی ئی دی هر یوه ته منزلونه لپاره د دی چه پوه شئ تاسی په شمیر د کلونو او په حساب (د میاشتو او ورځو او نورو)، نه دی پیدا کړی الله دا څیزونه مګر په حقه (او تدبیر سره)، په تفصیل سره بیانوی (ظاهروی الله) دلائل (د قدرت خپل) دپاره د قوم چه پری پوهیږی

**تفسیر:** د ځینو په نزد «نور» له «ضیاء» څخه عام دی. «ضیاء» خاص هغه «نور» ته وائی چه زیات روڼ او ځلیدونکی وی. ځینی وائی هغه چه رڼا ئی ذاتی وی «ضیاء» ده، او هغه چه له بل شی مستفاد او مستنار او رڼا (رڼرا) کیږی هغه «نور» دی. د لمر رڼا (رڼرا) په دغه عالم الاسباب کښی د بلی کړی څخنی نه حاصلیږی، د سپوږمی رڼا (رڼرا) البته د لمر له رڼا (رڼرا) څخه مستفاده ده او ځینو محققانو په دواړو کښی دغه فرق راښوولی دی چه «نور» مطلق رڼا (رڼرا) ته وائی «ضیاء» او «ضوء» د هغی د انتشار (خوریدلو) نوم دی. د لمر د رڼا (رڼرا) انتشار څرنګه چه زیات دی نو ځکه هغه ئی په «ضیاء» سره تعبیر وفرمایه والله اعلم بمراده.

«وقدره منازل»ـ او مقدر او مقرر کړی دی الله تعالیٰ دی هر یوه ته منزلونه) یعنی هره ورځ ئی په تدریج سره تنقیص او تزئید کوی. ﴿ وَالْقَمَرَ قَدَّرْنٰهُ مَنَازِلَ حَتّٰى عَادَ كَالْعُرْجُوْنِ الْقَدِيْمِ ﴾ (۲۳ جزء د یٰسٓ شریف (۳۹) آیت (۳) رکوع) د هیئت علماؤ د سپوږمی دوری شمیرلی دی او اته ویشت منازل ئی ورته مقرر کړی دی چه پر دوولسو برجونو منقسم دی. په قرآن کریم کښی خاص د هغو مصطلحات نه دی مراد بلکه مطلق سیر، او د مسافت مدارج تری مراد دی.

«لتعلمواعددالسنین والحساب» ـ لپاره د دی چه پوه شئ تاسی په شمیر د کلونو او په حساب د میاشتو او ورځو او نورو) یعنی د کلونو حساب او د میاشتو او ورځو وړوکی او لوی شمیر ګرد (تول) د لمر او سپوږمی په حرکاتو تړلی دی. که لمر او سپوږمی نه وی، نو شپه او ورځ، قمری او شمسی میاشتی، کال او نور به څرنګه متعین کیدل؟ حال دا چه برسیره پر دنیوی ژوندون او د معاشی چارو، د ډیرو شرعیهٔ احکامو د اوقاتو تاکل (مقررول) او تعین هم په هم دغه لمر او سپوږمی سره کیږی (اسلام وقت ته ډیر قیمت او اهمیت ورکوی او د اکثریهٔ شرعیهٔ امورو اداء او انجام په اوقاتو پوری منوط دی.)

«ما خلق الله ذلک الا بالحق» ـ نه دی پیدا کړی الله تعالیٰ دا څیزونه مګر په حقه او تدبیر سره) یعنی د فلکیاتو سلسله هم داسی خوشی چټی (بیکاره) شی او کیف ما اتفق نه ده بلکه له ډیر عظیم الشان نظام او تدبیر لاندی چلیږی، او په زرهاؤ فوائدو او حکمتونو باندی مشتمله ده. «یفصل الآیات لقوم یعلمون» ـ په تفصیل سره بیانوی الله تعالیٰ دلائل د قدرت خپل دپاره د قوم

چه پری پوهیږی) یعنی پوه خلق او عقلاء د مصنوعاتو د دغه نظام له کتلو څخه د پاک قادر حکیم الله سراغ او پته لګوی او د مادیاتو له انتظامه د روحانیاتو د عالم په متعلق هم اندازه لګوی. چه په هغی روحانی دنیا کښی څرنګه لمر او سپوږمی پاک الله پیدا کړی دی او هم دغو ته انبیاء او مرسلین وائی.

إِنَّ فِي اخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَمَا خَلَقَ اللَّهُ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَّقُونَ ﴿٦﴾

بیشکه په اختلاف د شپی او ورځی کښی (چه تل اوږدیږی او لنډیږی او یوه په بلی پسی راځی یخ او ګرمیږی او په هغو څیزونو کښی چه پیدا کړی دی الله په آسمانونو کښی او ځمکه کښی خامخا دلائل دی (د قدرت) دپاره د قوم چه ویریږی (له رحمانه او ځان ساتی له عصیانه).

**تفسیر:** بلا شبهه د دنیا په هر وړوکی او لوی شی کښی د الله تعالیٰ د وجود او د وحدانیت دلیل موجود دی

وفی کل شیٔ له آیة   تدل علیٰ انه واحد

په هر شی کښی دی دلیل   چه الله دی بی مثیل

هم داسی یو بل آیت په (٢) جزء د «البقرة» په (١٦٤) آیت (٢٠) رکوع کښی تیر شوی دی چه د هغه په ذیل کښی په بسط او تفصیل دغه د قدرت نښی بیان شوی دی.

إِنَّ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا وَرَضُوا بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَاطْمَأَنُّوا بِهَا وَالَّذِينَ هُمْ عَنْ آيَاتِنَا غَافِلُونَ ﴿٧﴾ أُولَٰئِكَ مَأْوَاهُمُ النَّارُ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿٨﴾

بیشکه هغه کسان چه نه لری امید د ملاقات زمونږ (او له آخرته منکران دی) او خوښ دی په دی ژوند لږ خسیس او آرام ئی نیولی (راضی شوی دی) په دی (ژوند پوری او له حشره غافلان دی) او هغه کسان چه دوی له آیتونو (دلائلو د قدرت) زمونږ نه غافلان دی. دغه مذکوره کسان ځای د ورتلو د

دوی اور (د دوزخ) دی په سبب د هغه چه وو دوی چه کول بی ئی.

**تفسیر:** یعنی له دنیا سره ئی داسی زړه ونښلاوه او هسی په کښې مشغول او لګیا شول چه له آخرته او د الله تعالیٰ د مخامخ کیدلو او لیدلو څخه بیخی بی‌پروا شول او هم دغه د خو ورځو ژوندون ئی د ځان مقصود او معبود وګرځاوه او د قدرت په هغو نښو او دلائلو ئی چه پاس یاد شول له سره هیڅ غور او تامل ونه کړ چه داسی مضبوط او حکیمانه نظام خو هم داسی بیکاره او چټی (فضول) نه دی جوړ کړی شوی، او ضرور د دی لویی کارخانی څخه کوم خاص مقصد او مدعا شته. بیا نو هغه ذات چه اول ځلی ئی داسی عجیبه او غریبه کارخانه او مخلوقات پیدا کړی دی هغه ته د هغه بیا پیدا کول هیڅ ګران او مشکل نه دی.
«اولئک مأوٰهم النار» الایه ـ دغه مذکوره کسان ځای د ورتلو د دوی اور د دوزخ دی په سبب د هغه چه وو دوی چه کول به ئی) یعنی هر هغه شی چه دوی په زړه او دماغ سره او په ژبو او لاسو او پښو سره ګټلی دی، د هغه بدل د دوزخ اور دی.

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ يَهْدِيهِمْ رَبُّهُم بِإِيمَانِهِمْ تَجْرِي مِن تَحْتِهِمُ الْأَنْهَارُ فِي جَنَّاتِ النَّعِيمِ ⑨

بیشکه هغه کسان چه ایمان ئی راوړی او کړی ئی دی ښه (عملونه) وبه ښیی دوی ته رب د دوی (په آخرت کښې) لاره د جنت په سبب د (نور د) ایمان د دوی، چه بهیږی له لاندی (د کورونو او باغونو) د دوی (څلور قسمه) ویالی په باغونو د آرامی (ډک له نعمتونو)

**تفسیر:** یعنی د ایمان په برکت او د هغه په رڼا (رنړا) کښې پاک الله مؤمنین خپل اصلی مقصد ته (چه جنت دی) رسوی.

دَعْوَاهُمْ فِيهَا سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَامٌ ۚ وَآخِرُ دَعْوَاهُمْ أَنِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ⑩

دعاوی (ویناوی) د دوی په دی جنتونو کښې (دا وی) چه په پاکی سره یادوو تا ای الله او پیشکشی د دوی به په دغه (جنت) کښې سلام وی، او

خاتمه د دعا (وينا) د دوى به دا وى چه گردى(تولى) ثناوى ستاينى (صفتونه) خاص الله لره دى چه رب (پالونكى) د تولو عالميانو دى.

**تفسير:** يعنى كله چه جنتيان د جنت نعمتونو او د الله تعالىٰ فضل او احسان ته گورى «سبحان الله» به ووائى، او كله چه د پاک الله څخه د كوم شي د غوښتلو مينه او آرزو كوى مثل كه كوم مرغه (طير) يا ميوه يا بل شى ئى وليد او ورته ئى رغبت پيدا شو نو «سبحانک اللهم» به وائى د دى الفاظو د آوريدلو سره متصل پرښتى به هم همغه شى على‌الفور ورحاضر كرى. گواكى هم دغه لفظ به د گردو(تولو) دعاؤ قائم مقام وى. په دنيا كښى هم د لويو سريو كره داسى دود (رواج) او دستور دى چه كه كوم شى د ميلمه خوښ شى او تش ئى ستاينه (صفت) وكرى، نو غيرتمن كوربه زيار(محنت) كوى او كوښښ به كوى چه هغه شى سم د لاسه خپل دغه ميلمه ته ورحاضر كرى.

«دعوٰهم فيها سبحنک اللهم» ـ وينا د دوى به په دى جنتونو كښى دا وى چه په پاكى سره يادوو تا اى الله! او پيشكشى د دوى به په دى جنت كښى سلام وى.) يعنى جنتيان به د ملاقات په وقت كښى يو بل ته سلامونه اچوى. لكه چه په دنيا كښى هم د مسلمانانو دغه عادت او دستور دى. او هم د پرښتو سلام اچول جنتيانو ته بلكه بالذات د الله تعالىٰ له لورى د سلام تحفى راتلل په پاک قرآن كښى منصوص دى: «سلام قولاً من رب رحيم» (٢٣ جز، د يٰسين شريف (٥٨) آيت ٤ ركوع «والملٰئكة يدخلون عليهم من كل باب سلام عليكم بما صبرتم فنعم عقبى الدار» (١٣ جز، د الرعد (٢٣) آيت ٣ ركوع).

«وآخر دعوٰهم ان الحمد لله رب العٰلمين» ـ او خاتمه د دعا او وينا د دوى به دا وى چه گردى(تولى) ثناوى او ستاينى (صفتونه) خاص الله لره دى چه رب او پالونكى د تولو عالميانو دى.) ورروسته د جنت له رسيدلو څخه دنيوى تفكرات او كدورات خاتمه مومى، او تش په يوه «سبحٰنک اللهم» ويلو سره هر شى سم د جنتيانو له غوښتنى سره وررسيږى، نو د دوى د هرى دعا او وينا خاتمه به په «الحمد لله رب العٰلمين» سره وى. او ښائى چه طبعادى هم داسى وى.

وَلَوْ يُعَجِّلُ اللّٰهُ لِلنَّاسِ الشَّرَّ اسْتِعْجَالَهُمْ بِالْخَيْرِ لَقُضِيَ اِلَيْهِمْ اَجَلُهُمْ فَنَذَرُ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ⑪

او كه جلت ورسوى الله خلقو ته بدى په شان د جلتى د غوښتنى د دوى نيكى لره نو خامخا رااليږلى شوى به ؤ دوى ته اجل (موت) د دوى، نو پريږدو مونږ هغه كسان چه نه لرى اميد دوى د ملاقات زمونږ (په قيامت كښى) په سركشى د دوى كښى چه سرگردانه به وى دوى.

**تفسیر:** دوه آیته پخوا له دی نه ئی فرمایلی ؤ، هغه کسان چه په غفلت کښی لویدلی دی، او زمونږ د اخروی ملاقات هیله(آرزو) او امید نه لری، د هغوی د هستوګنی ځای دوزخ دی. دلته دا ښوول کیږی چه الله تعالیٰ په دنیا کښی دا مجرمین فوراً نه نیسی بلکه مهلت ورکوی. حال دا چه د نورو خلقو عادت داسی دی چه دیر ځلی بیباکه او بی حیا کیږی او پر خپلو ځانونو د عذاب د نزول مطالبه کوی مثلاً وائی ﴿ اللَّهُمَّ إِن كَانَ هَٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِندِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ السَّمَاءِ ﴾ ۹ جزء د الانفال ۳۲ آیت ٤ رکوع) کله د دنیوی حوادثو څخه په تنګ کیږی او د خپل ځان یا د اولاد او نورو په حق کښی ښیری کوی. لکه چه له تجربی څخه ظاهر دی نو اوس که الله تعالیٰ سم د دوی له غوښتنی سره فوراً لاس په لاس عذاب یا بدی ژر هغو ته وررورسوی، څومره چه دوی ژر د نیکی د رسیدلو غوښتنه کوی، نو د بدی له وبال څخه یوه لحظه هم فرصت نه مومی او د ژوندون مزی به ئی هغه ګړئ وشلیږی مګر د الله تعالیٰ له درباره په نیکی او بدی کښی مصلحت سره موافق تاخیر او تحمل کیږی څو نیکان تربیت ومومی او بدکاران په غفلت کښی ولویږی او د هغو د شرارت جام تر څنډو (غاړو) پوری ډک شی.

---

وَإِذَا مَسَّ الْإِنسَانَ الضُّرُّ دَعَانَا لِجَنبِهِ أَوْ قَاعِدًا أَوْ قَائِمًا
فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُ ضُرَّهُ مَرَّ كَأَن لَّمْ يَدْعُنَا إِلَىٰ ضُرٍّ مَّسَّهُ
كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلْمُسْرِفِينَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٢﴾

---

او کله چه ورسیږی انسان ته ضرر (تکلیف) نو بولی مونږ (لپاره د دفعی د ضرر) (پروت) په اړخ خپل یا ناست یا ولاړ (یعنی په هر حال)، نو کله چه لری کړو له ده څخه ضرر تکلیف د ده نو درومی (پاتی کیږی په کفر خپل باندی) لکه چه نه ئی وو بللی مونږ (دفع کولو د) هغه ضرر (تکلیف) ته چه رسیدلی ؤ ده ته، هم داسی (په مثل د دی تزئین) ښائسته کړی شوی دی دغو اسراف کوونکو ته هغه(عصیان) چه وو دوی چه کاوه به ئی (چه دعا ده په شدت کښی او ترک ئی دی په راحت کښی).

---

**تفسیر:** یعنی انسان اول د خپلی بیباکی څخه پخپله د عذابونو غوښتنه کوی او پخپلی ژبی بدی غواړی مګر دومره کمزور او ناتوانه هم دی، چه که لږ څه تکلیف ور ورسیږی نو ژر تر ژره ویریږی، او زمونږ په بللو سره پیل (شروع) کوی. او تر هغه وقته پوری چه پری مصیبت وی. په ولاړه ناسته ملاسته او په هر حالت کښی پاک الله یادوی او تری استمداد غواړی مګر کله چه

تکلیف تری لری کړ شی نو تری هغه ګرځی(تولی) ویناوی او حذر او زاری هیریږی او داسی یو وضعیت ښکاروی چه ګواکی ده له سره الله تعالیٰ ته خپل احتیاج او اړتیا (مجبوری) نه وه وړواندی کړی او پخپل همغه تکبر، غرور، لوئی، غفلت او د ځانمنی(خودنمائی) په نشو کښی مست ګرځی او په همغه ضد، عناد لګیا اوسیږی، چه پخوا له دی نه پکښی اخته او مبتلا ؤ. په حدیث کښی راغلی دی چه ته په عیش او عشرت هوسائی (خوشالی) او آرامی کښی خپل الله یادوه! نو الله تعالیٰ به هم تا په سختیو او مصیبت او تکلیف کښی (په اثابت حفاظت اعانت او نورو سره) یادوی. د مؤمن له شانه دا دی چه په هیڅ وقت کښی پاک الله نه هیروی. تل په سختی او مصیبت کښی صابر او په وقت د عیش او فراخی او وسعت کښی شاکر اوسیږی او د الله جل وعلا حمد او ثناء اداء کوی. دا همغه شی دی چه د هغه توفیق پرته(علاوه) له مؤمنه د بل چا په برخه نه کیږی.

وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا الْقُرُونَ مِن قَبْلِكُمْ لَمَّا ظَلَمُوا ۙ وَجَاءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ وَمَا كَانُوا لِيُؤْمِنُوا ۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْقَوْمَ الْمُجْرِمِينَ ﴿١٣﴾

او خامخا په تحقیق هلاک کړی ؤ مونږ اهل د زمانو چه وو پخوا له تاسو (ای مکی والو) کله چه ظلم ئی کړی ؤ او حال دا چه راوړی وو هغو ته رسولانو د هغو ظاهری معجزی او له سره نه وو دوی چه ایمان ئی راوړی وی، هم داسی (په مثل د دغی سزا) سزا ورکوو مونږ قوم مجرمانو(کافرانو) ته.

**تفسیر:** یعنی که سم د هغو د غوښتنی سره ژر عذاب ورنشی یا خو تری تکلیف او مصیبت لری شی، نو ښائی چه بی فکره نشی ځکه د ظلم او شرارت او بی ایمانی سزا هرومرو(خامخا) ژر یا په ځنډ(ایسارتیا) وررسیدونکی ده. سنت الله له قدیمه راهیسی په هم دی باندی جاری دی، کله چه خلقو سره له دی چه د انبیاؤ او مرسلینو ښکاره دلایل او محجزی ئی وکتلی، خو وروسته له هغه ئی هم ظلم او تکذیب ته ملاوی وتړلی او په هیڅ دول(طریقه) د ایمان او تسلیم په لوری متمائل نشول، نو هغوی آسمانی عذاب هلاک کړی دی. او تل مجرمینو ته په یوه قسم نه په بل قسم سزا رسیدلی ده.

ثُمَّ جَعَلْنَاكُمْ خَلَائِفَ فِي الْأَرْضِ مِن بَعْدِهِمْ لِنَنظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ ﴿١٤﴾

بیا مونږ وګرځولئ تاسی (ای محمدی امته!) خلیفګان په ځمکه کښی وروسته له (هلاک د) هغو څخه دپاره د دی چه وګورو مونږ (په ښکاره هم) چه

څرنګه عمل کوئ تاسي (د نیکی که د بدی).

**تفسیر:** یعني د پخوانیو په ځای تاسو ته ئی د ځمکی په سر هستوګنه درکړه. تر څو وکتل شی چه تاسي تر کومه حده پوری د خالق او د مخلوق حقوق پیژنئ، او اداء کوئ ئی؟ او د الله تعالیٰ له رسولانو سره څرنګه معامله کوئ؟ نیک که بد؟ هر ډول(طریقه) عمل چه وکړئ سم له هغه سره تاسی سره مناسبه معامله کوله کیږی وروسته له دی نه د هغی معاملی ذکر دی چه کفارو او منکرانو له پاک قرآن عظیم یا له رسول کریم یا له الله قدوس سره کړی وه.

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ ۙ قَالَ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا ائْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِ هَٰذَا أَوْ بَدِّلْهُ ۚ قُلْ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أُبَدِّلَهُ مِنْ تِلْقَاءِ نَفْسِي ۖ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰ إِلَيَّ ۖ إِنِّي أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٥﴾

او کله چه ولوستل شی پر دغو (کفارو) آیتونه (د قرآن) زموږ حال دا چه واضح دی نو وائی هغه کسان چه نه لری امید د (اخروی) ملاقات زموږ چه راوړه یو (بل) قرآن چه غیر وی له دی قرآن نه یا ئی بدل کړه (چه د بتانو عیبونه او دغه احکام پکښی نه وی)، ووایه (ای محمده دوی ته) چه نه ښائیږی ماته دا چه بدل کړم دغه (قرآن) له ځانه خپله متابعت نه کوم زه مګر د هغه (حکم) چه رالیږلی شوی دی ماته (بی له زیادت او نقصان)، بیشکه زه ویریږم که بی فرمانی وکړم د رب خپل (په تبدیل د قرآن سره) له عذاب د ورځی لوئی.

**تفسیر:** د پاک قرآن عمومی پند او نصیحت خو کفار ډیر خوښوی لیکن هر کله چه د بت پرستی یا د کفارو د مخصوصو عقائدو او نورو تردید کاوه شی نو کفار متوحش او ترهور کیږی. او په ډیر نفرت او کراهیت سره رسول الله ته وائی چه پاک الله ته ووایه چه «بل کوم هسی قرآن درکړی چه پکښی دغسی مضامین نه وی او که هم دغه قرآن پاتی کیږی نو دومره برخه ئی ښائی چه هرومرو(خامخا) اصلاح او ترمیم وکړئ چه بت پرستی او نورو په متعلق پکښی خبری شته» د هغو خلقو له ذهنیت څخه دغه غوښتنی دومره زیاتی مستبعدی نه ښکاری چه د تیرو(ګتو) او لوتو په بتانو باندی ئی د خدائی تصرفات، اختیارات تقسیم کړی ؤ چه یو رسول

هم د داسې تصرفاتو او اختياراتو مالک فرض کړي. يا به دغه وينا تشه د الزام او استهزاء په دول(طريقه) وي. په هر حال د دې تحقيقي جواب دا دی چه پخپله نبي پاک الله داسې فرمائي: (ووايه اى محمده دوى ته چه نه شائيږي ماته چه بدل کړم دغه قرآن بيشکه زه ويريږم که نافرمانى وکړم د رب خپل په تبديل د قرآن سره د عذاب د ورځى لوئى) يعنى د کومې پرښتې يا رسول کار دا نه دى چه له خپل لورى د الله تعالىٰ په کلام کښې ترميم وکړي. يا ئې يو تکى يا حرکت تبديل يا لاندې باندې کړي. د رسول الله صلى الله عليه وسلم وظيفه دا ده هغه وحى چه الله تعالىٰ له لورى راشى هغه بې له تزئيده او تنقيصه د ده د حکم سره موافق ورسوى او تعمل ئې وکړي رسول الله صلى الله عليه وسلم د الله تعالىٰ د وحى تابع وى الله تعالىٰ د رسول تابع نه دى چه څرنګه کلام چه تاسې غواړئ همغسې د الله تعالىٰ له درباره ئې راوړي د الله تعالىٰ په وحى کښې له ادنىٰ څخه ادنىٰ تصرف قطع او پريکول ډير لوى معصيت او سخته ګناه ده بيا هغه معصوم بنده‌ګان انبياء عليهم السلام چه له ګردو(ټولو) څخه زيات له الله تعالىٰ څخه ويريږي هغوى داسې معصيت ربى او نافرمانى ته کله نژدې ورتلى شي په ﴿ إِنِّيٓ أَخَافُ إِنۡ عَصَيۡتُ رَبِّي عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ﴾ کښې ګواکې پر دغو خوښى غوښتونکو باندې تعريض وکړ شو چه د داسې سختې نافرمانى کولو لامله(له وجې) ښائى د لويې ورځى له عذابه ډير زيات وويريږي.

---

قُل لَّوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا تَلَوۡتُهُۥ عَلَيۡكُمۡ وَلَآ أَدۡرَىٰكُم بِهِۦۖ فَقَدۡ لَبِثۡتُ فِيكُمۡ عُمُرٗا مِّن قَبۡلِهِۦٓۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿١٦﴾

---

ووايه (اى محمده ! دوى ته) که اراده فرمايلي وى الله نو ما به نه ؤ لوستى دا (قرآن) پر تاسې او نه به عالمان کړي وى (الله) تاسې په دې (قرآن) نو په تحقيق اوسيدلى وم زه په تاسې کښې ډير عمر (چه ٤٠ کاله ؤ) پخوا له (نزوله د) قرآنه، آيا نو عقل نه لرئ تاسې.

---

**تفسير:** يعنى هر هغه چه د الله تعالىٰ اراده ده همغه زه ستاسې په مخ کښې لولم او هومره چه د ده اراده وى ځما په وسيله تاسې پرې خبروى. که د ده اراده پرته(علاوه) له دې نه وى، نو ځما څه طاقت او توان ؤ چه له خپله ځانه کوم کلام او خبره جوړه کړم او بيا هغه د ده په لورى منسوب کړم، آخر ځما څلويښت کاله عمر ستاسې تر سترګو لاندې تير شوى دى، او په دغومره اوږد مدت کښې تاسې ته ځما د ګردو(ټولو) حالاتو په متعلق هر قسم تجربى او معلومات حاصل شوى دى ځما صداقت، عفت، امانت، ديانت، او نور حسنه اخلاق په تاسې کښې ضرب‌المثل دى، ځما امى‌توب او د کوم معلم په مخ کښې د شاګردى دپاره نه کيناستل، يوه معرفه او مسلمه واقعه ده. نو بيا چا چه تر څلويښت کلنى پورې نه کومه قصيده ليکلى وى او نه

په مشاعراتو کښې شريک شوی وی او نه ئې چيرې کوم کتاب پرانستلی وی او نه ئې قلم په لاس کښې اخيستی وی او نه په کومې مدرسې، مکتب، او نورو کښې د لوستلو دپاره ناست وی او يو ناڅاپه داسې يو کلام جوړ کړی چه پخپل فصاحت، بلاغت، شوکت، جزالت، سلاست، روانی او د اسلوب په جدت کښې ګرد(تول) پيريان او انسانان عاجزان کړی او د ده د علومو او معارفو او حقائقو په مقابل کښې د ګرد(تول) جهان علم او عرفان بيرته پاتې شي. او داسې مکمل او عالم نيوونکی د هدايت قانون د انسانی نوعې په لاسو ورسوئ، چه د هغه په مخ کښې ګرد(تول) پخوانی قوانين منسوخ او رد او ناچل شي. د لويو لويو قومونو او ملکونو په مړو قالبونو کښې نوی او تازه روح پوکی، او د ابدی حيات او نوی ژوندون سامان ور برابر او تيار کړی. نو دغه خبره د چا په فهم او پوه کښې راتلی شي؟ تاسی ته ښائی چه په ښه دول(طريقه) سره فکر وکړئ هغه پاک او صاف انسان چه تر څلويښتو کلونو پورې ئې پر هيڅ بنی آدم پورې دروغ نه دی ويلی، نو آيا هغه به يو ناڅاپه يو ځلی څرنګه دومره جسارت وکړی شي چه (معاذ الله) په پاک الله پورې دروغ ووائی، او افتراء پرې وتړی؟ ناچاره ښائی دغه خبره ومنله شي هغه د الٰهی کلام چه زه ئې تاسو ته آوروم د هغه په جوړولو يا رسولو کښې زه له سره اختيار نه لرم هر هغه شي چه پاک الله اراده وکړی، هغه تاسی ته زما په ژبې سره آوروی. په هغه کښې د يوه تکې يا د کسرې يا د فتحې د تبديل حق هم هيڅ يوه سړی ته نه دی حاصل (نو آيا پس تاسی عقل نه لرئ او نه پوهيږئ چه ما له ځانه نه دی ساز کړی دغه قرآن. او ولې به زه ترم دروغ په الله تعالىٰ پورې ځکه چه)

فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰی عَلَی اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ ؕ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۱۷﴾

نو څوک دی ډير ظالم له هغه چا نه چه تړی پر الله باندی دروغ يا نسبت د دروغو کوی آيتونو د ده ته (بلکه نشته)، بيشکه شان دا دی چه خلاصی نه مومی مجرمان (کافران له عذابه).

**تفسير:** يعنی ګنهګارانو او مجرمانو ته حقيقی بری، فتحه او ښيګڼی(فائده) نشی حاصليدی اوس تاسی پخپله فيصله وکړئ چه ظالم او مجرم څوک دی؟ که په فرض محال زه دروغ جوړ کړم، او هغه پاک الله ته ئې منسوب کړم، نو ما غوندی بل هيڅوک ظالم نشی کيدی. ليکن له هغه دليل څخه چه په تير آيت کښې تير شوی دی، ثابته شوه، چه دغه احتمال بالکل باطل دی. نو کله چه زما صداقت ثابت او تاسی د جهل او يا د عناد لامله(له وجی) د الله تعالىٰ کلام دروغجن کوئ، نو اوس د ځمکی په مخ کښې له تاسی څخنی هيڅوک لوی ظالم نشی کيدی.

وَيَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَٰؤُلَاءِ شُفَعَاؤُنَا عِنْدَ اللَّهِ ۚ قُلْ أَتُنَبِّئُونَ اللَّهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ ۚ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿١٨﴾

او عبادت کوی دغه (کفار) غیر له الله د هغو بتانو چه نشی رسولی هیڅ ضرر دوی ته (که ئی عبادت ونه کړی) او نه نفع رسولی شی دوی ته( که ئی عبادت وکړی) او وائی دغه (کفار) چه دغه (بتان) شفاعت ګران زمونږ دی په نزد د الله کښی، ووایه (ای محمده! دوی ته) آیا خبر ورکوئ تاسی الله ته په هغه څیز چه نه دی معلوم ده ته (نه) په آسمانونو کښی او نه په ځمکه کښی (یعنی داسی شی هیچری نشته)، الله پاک او ډیر پورته دی له هغو اشیاؤ چه شریکوی دوی (هغه له الله سره په عبادت کښی).

**تفسیر:** هغه معامله خو له الله تعالیٰ او د هغه له رسوله سره وه. اوس تاسی د هغو د خدای پرستی حال واورئ! چه پاک الله ئی پریښی او د داسی شیانو عبادت کوی چه د هغو په قبضه او اختیار کښی هیڅ یوه نفعه او ضرر نشته. کله چه پوښتنی کیږی نو وائی بیشکه چه لوی الله خو همغه یو او لاشریک ذات دی چه آسمان او ځمکه ئی پیدا کړی دی، مګر د دغو اصنامو (بتانو) او نورو خوشاله ساتل د دی لامله(له وجی) ضرور دی چه دوی زمونږ شفاعت او سپارښت د پاک الله په لوی دربار کښی کوی. پاتی شوه نور وړوکی کارونه چه هغه د دوی په واک (قبضه) او اختیار کښی دی، د هغو تعلق یواځی له هم دوی سره دی. بناء علیه مونږ لره ښائی چه د دوی عبادت وکړو. (نو ووایه ای محمده دوی ته آیا خبر ورکوئ تاسی الله ته په هغه څیز چه نه دی معلوم ده ته نه په آسمانونو کښی او نه په ځمکه کښی یعنی داسی کوم شی نشته. الله پاک او برتر دی له هغو اشیاؤ چه شریکوی ئی دوی له الله سره په عبادت کښی انتفاء د علم له جهته د انتفاء د معلوم ده یعنی الله تعالیٰ له سره شریک او سیال نه لری، نو ځکه ورته معلوم نه دی). یعنی د بتانو شفاعت، او د شفیع د عبادت کولو استحقاق. دغه دعاوی بی‌اصله او غلطی دی. او ښکاره ده چه د الله تعالیٰ په علم کښی همغه شی وی چه صحیح او واقعی وی. لهٰذا د الله تعالیٰ د تعلیمه په خلاف دغو غیر واقعی او له ځانه جوړ کړی اصول حق ثابتول. ګواکی الله تعالیٰ ته د داسی شیانو د واقعیت څخه معاذ الله خبر ورکول دی، چه د هغو وقوع په آسمان او ځمکه او په هیڅ یوه ځای کښی ده ته معلوم نه دی یعنی هیڅیری د هغه وجود نشته. که وی نو هرومرو(خامخا) به د هغه په علم کښی وی. بیا نو د هغه څخه مو الله تعالیٰ ولی منع کوی.

وَمَا كَانَ النَّاسُ إِلَّا أُمَّةً وَاحِدَةً فَاخْتَلَفُوا ۚ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ فِيمَا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿١٩﴾

او نه ؤ دغه خلق مگر امت یو (متفق په یو دین د اسلام) نو اختلاف وکړ دوی! او که نه وی هغه کلمه چه پخوا ثابته شوی ده له رب ستا (په علم د رب د تا په تاخیر د جزا) نو خامخا به حکم کړی شوی ؤ په منځ د دوی کښې په همغه څیز کښې چه په هغه کښې اختلاف (جگړی) کوی دوی.

**تفسیر:** ممکن ؤ چه مشرکینو به ویل چه که الله تعالیٰ دغه امر ستاسی په دین کښې منع کړی وی زمونږ په دین کښې ئی خو نه دی منع کړی. د هغه جواب ئی ورکړ چه د الله تعالیٰ دین له ازله تر ابده پوری تل یو دی. په حقه ؤ اعتقاداتو کښې هیڅ یو فرق نشته. هغه خلق چه په منځ کښې گمراهان او بی‌لیاری او سره جلا(جدا) شوی دی. الله تعالیٰ د دوی د پوهولو او پر حقه لیاره راوستلو لپاره انبیاء ئی لیږلی دی په هیڅ یوه زمانه او په هیڅ یوه ملت کښې الله تعالیٰ شرک نه دی جائز کړی. پاتی شوه دغه خبره چه د خلقو یو له بل سره اختلافات او جگړی ولی یو ځلی نه ورکوی؟ نو ځکه دا ئی بالجبر نه دی لری کړی چه د پاک الله په علم کښې دغه خبره فیصله شوی ده چه دغه دنیا دارالعمل (او د وارداتو ځای دی) د قطعی او آخری فیصلی ځای نه دی دلته ئی انسانانو ته کسب او اختیار ورکړی دی. او نور ئی لږ څه آزاد او خپلواک پری ایښی دی چه دوی د عمل هره لیاره چه غواړی، اختیار کړی. که دغه خبره لا له پخوا څخه طی او پری کړی شوی نه وی نو د گردو(تولو) اختلافاتو فیصله به یو ځلی کیده. (ځینی د «امة واحدة» ترجمه داسی هم کوی: او نه وو آدمیان مگر خو تولی یو متفق په کفر باندی نو ورته ولیږل پاک الله انبیاء پس سره مختلف شول دوی چه ځینو ایمان راووړ لکه اتباع د ابراهیم علیه السلام او ځینی همغسی پاتی شول لکه نمرودیان په کفر خپل سره. مگر غوره همغه ترجمه ده چه په «یو تولی متفق په یو دین د اسلام» سره شوی ده لکه پخوا د قتل د هابیل یا پس له طوفانه)

وَيَقُولُونَ لَوْلَا أُنزِلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِّن رَّبِّهِ ۖ فَقُلْ إِنَّمَا الْغَيْبُ لِلَّهِ فَانتَظِرُوا إِنِّي مَعَكُم مِّنَ الْمُنتَظِرِينَ ﴿٢٠﴾

او وائی دوی ولی نه ده نازله کړی شوی پر دغه (محمد باندی هغه) معجزه (چه مونږ ئی غواړو) له ربه د ده، نو ووایه بیشکه هم دا خبره ده چه (علم د

غيب خاص الله ته دی (چه څه مصلحت به وی په نه راليږلو د دغی معجزی کښی) نو منتظر اوسئ تاسی (نزول د هغی معجزی ته)، بيشکه زه (هم) له تاسی سره له منتظرينو څنی يم (ستاسو عذاب ته).

**تفسير:** يعنی د هغو معجزاتو غوښتنه چه دوی کوی چه له هغو څنی يوه معجزه ولی نه ده رانازله شوی؟ د جواب حاصل دا دی چه: دوی د صداقت ډير دلائل لا له پخوا څخه ليدلی دی، د فرمائشی معجزو ورښکارولو ته هيڅ ضرورت نه دی پاتی. او نه دومره مفيد دی. وروسته د هری معجزی ښوونه چه د پاک الله مصلحت وی، ورښکاروی ئی. الله تعالیٰ سره دغه علم شته چه په مستقبل کښی به د کوم شان او نوعيت معجزی ظاهروی. نو تاسی هم منتظر اوسئ. مونږ به هم انتظار کوو په «موضح القرآن» کښی دی «يعنی که ووائی چه مونږ له څه شی څخه وپوهيږو چه د تاسی خبری رښتيا دی. نو وئی فرمايل چه پاک الله به دغه دين روښانوی او مخالفانو ته به ذلت ورپيښوی او بربادوی ئی لکه چه هم داسی هم وشوه. د رښتيا نښه يو ځلی کافی ده. او که هر ځلی مخالفانو ته ذلت ورپيښ شی نو خبره بيخی فيصله کيږی حال دا چه د فيصلی ورځ په دغی دنيا کښی نه ده.

وَإِذَآ أَذَقۡنَا ٱلنَّاسَ رَحۡمَةً مِّنۢ بَعۡدِ ضَرَّآءَ مَسَّتۡهُمۡ إِذَا لَهُم مَّكۡرٞ فِيٓ ءَايَاتِنَاۚ قُلِ ٱللَّهُ أَسۡرَعُ مَكۡرًاۚ إِنَّ رُسُلَنَا يَكۡتُبُونَ مَا تَمۡكُرُونَ ٢١

او کله چه ور وڅکوو مونږ خلقو ته کوم قسم رحمت (لکه صحت او غناء) وروسته له سختی (لکه مرض او عناء) چه رسيدلی دی دوی ته نو ناڅاپه وی به دوی لره مکر (بد ويل حيله جوړول) په (دفع د) آيتونو زمونږ کښی، ووايه (ای محمده! دوی ته چه) الله ډير جلت دی له جهته (د جزا ورکولو) د مکر، بيشکه رسولان (کرام الکاتبين) زمونږ ليکی مکر د تاسی (نو جزا به درکړو تاسی ته د دغه مکر)

**تفسير:** حق تعالیٰ په مکی والو اوه کاله قحط مسلط کړ. کله چه هلاکت ته ورنژدی شول نو له ډيری ويری ئی رسول اکرم صلی الله عليه وسلم ته التجاء او له دوی نه ئی د دعا استدعاء وکړه او وعده ئی ورسره وکړه که دغه عذاب له مونږ څخه لری شو. نو مونږ به هم ايمان راوړو. د رسول الله صلی الله عليه وسلم د دعا په برکت هغه عذاب محو او ورک او د قحط بلا بيخی لری شوه. نو بيا دوی په همغو شرارتونو باندی پيل (شروع) وکړ. او د الله تعالیٰ د آيتونو په تکذيب ئی لاس پوری کړل. او د الله تعالیٰ قدرت او رحمت ته ئی نظر ونه کړ. بلکه د الله تعالیٰ انعامات

ئی له ظاهری اسبابو او حیلو او محض بی‌اصولو خیالاتو او اوهامو په لوری نسبت کړل. نو د هغه جواب ئی ورکړ چه ښه ده تاسی ښه مکر او فریب او حیله بازی وکړئ. مګر په یاد ئی ولرئ چه ستاسی دغه حیله بازی یو په یو لیکله کیږی او هغه ګرد(تول) دفتر به د قیامت په ورځ ستاسی په مخ کښی کیښود کیږی. بیا کله چه ستاسی هیڅ یوه حیله بازی له پرښتو څخه پټه نه ده، نو د الله تعالیٰ د محیط علم څخه به څرنګه خارج پاتی کیدی شی؟ تاسی په خپل مکر او حیله بازی مغرور یئ حال دا چه د الله تعالیٰ جوابیه مکر (پټ تدبیر) ستاسی له مکره او تدبیره ډیر ژر او سریع‌الاثر دی.

پاک الله د مجرم د کسب او اختیار دائری ته استدراجاً دومره وسعت ورکوی چه دی د غفلت په نشو کښی بیخی مست او بیخوده او د سزا له تصوره هم بالکل بی پروا شی. کله چه ئی د شقاوت جام تر خندو (غاړو) پوری ډک شی نو ئی یو ناڅاپه کلک تر ستونی نیسی. لهٰذا عاقل ته ښائی چه د الله تعالیٰ د نرمی، تحمل او زړه خوښوونکو حالاتو د لیدلو څخه مغرور نشی ځکه چه ده ته نه دی معلوم چه ورسته د دغی نرمی څرنګه سختی راتلونکی ده. حضرت شاه صاحب بیان کړی دی چه «د سختی په وقت کښی د انسان نظر له اسبابو نه پورته کیږی او یواځی د الله تعالیٰ په لوری وی. هم دا چه د سختی زمانه تیره شوه او کار ئی تر سره ورسیده، بیا ئی الله تعالیٰ هیریږی او په اسبابو او وسائلو پوری اسره کوی او له سره نه ویریږی چه الله تعالیٰ به بیا همغسی د تکلیف او سختی یو سبب ورپیدا کړی. د هم دغه خالق الافلاک په بالغه قدرت او قاهره قوت کښی د ګردو(تولو) وسائلو او اسبابو واک(مجاز) او اختیار دی. لکه چه وروسته د بحری سفر په مثال کښی ئی یو صورت داسی بیان فرمائی.

---

هُوَ الَّذِي يُسَيِّرُكُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ حَتَّىٰ إِذَا كُنتُمْ فِي الْفُلْكِ وَجَرَيْنَ بِهِم بِرِيحٍ طَيِّبَةٍ وَفَرِحُوا بِهَا جَاءَتْهَا رِيحٌ عَاصِفٌ وَجَاءَهُمُ الْمَوْجُ مِن كُلِّ مَكَانٍ وَظَنُّوا أَنَّهُمْ أُحِيطَ بِهِمْ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ لَئِنْ أَنجَيْتَنَا مِنْ هَٰذِهِ لَنَكُونَنَّ مِنَ الشَّاكِرِينَ ﴿٢٢﴾ فَلَمَّا أَنجَاهُمْ إِذَا هُمْ يَبْغُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلَىٰ أَنفُسِكُم مَّتَاعَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ثُمَّ إِلَيْنَا مَرْجِعُكُمْ فَنُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٣﴾

الله هغه ذات دی چه گرځوی تاسی (په خپلو پښو یا په سورلی) په وچه او په بحر (سیند په لامبو یا مرکوب)، تر هغه پوری چه سواره شئ، په کشتیو کښی، او روانه شی (دا بیړی) سره له دغو (خلقو چه ناست وی پکښی) په هغه باد ښه (موافق له ضرورت د کشتی سره) او خوشاله شی په هغه سره نو راشی هغه کشتی ته باد سخت (مخالف د مراد جکړ) او راشی دوی ته موج (چپی د سیند) له هر ځایه (او له هر لوری) او وګنی دوی دا چه بیشکه دوی احاطه وکړه شوه پر دوی (په موجباتو د هلاک) دعا وکړی وبولی دوی الله (دپاره د نجات خپل) چه خالص کوونکی وی ده ته دین خپل (او وائی) قسم دی که نجات دی راکړ مونږ ته له دی (سختی) نو خامخا به شو مونږ هرومرو(لازماً) له شکر کوونکو (په دغه نعمت د نجات ستا) نو هر کله چه نجات ورکړی دوی ته (الله له غرقه او وچی ته راشی) ناڅاپه دوی فساد شرارت کوی په ځمکه کښی په ناحقه سره، ای خلقو بیشکه هم دا خبره ده چه جزاء د شرارت ستاسی پر نفسونو (ځانونو) ستاسی ده (اوس کوئ تاسی دا) عیش د ژوندون لږ خسیس بیا خاص مونږ ته راتله ستاسی دی (په قیامت کښی) نو خبر به درکړو تاسی ته په هغه عمل چه وئ تاسی چه کاوه به مو (په جزا ورکولو سره).

---

**تفسیر:** په ابتداء کښی هوا ښه نرمه، او د بیړیو کشتیو او جهازونو او نورو په مقتضاء سره برابره وی. مسافران په کښی خاندی، لوبی کوی او په ډیره آرامی او هوسائی (خوشالئ) سره پکښی ناست وی. یو ناڅاپه یو زورور طوفان (څپان) پیدا شی، او د څلورو خواؤ د اوبو غرونه راپورته کری، او له کشتی یا له جهازه سره ئی وهی نو کله چه دغه د لوی سیند (بحر) مسافران ویوهیږی چه له هره لوری د مرگ موجباتو راچاپیر کری یو او د تښتیدلو او وتلو هیڅ کومه لار نه ده پاتی، نو دوی فرضی او مصنوعی معبودان پریږدی، او یواځی واحد لوی الله د خپل نجات دپاره رابولی، لکه چه د انسانی د اصلی فطرت تقاضا ده هر کله چه له هر څیز څخه مایوس شی، نو خاص د الله تعالیٰ بندگی ځان ته غوره کوی او ډیر پوخ عهد او کلکه وعده وکری چه که له مصیبته پاک الله ماته نجات راکری، نو زه به ئی شکر کوونکی تابع او طائع اوسم او له سره به د کفران لوری ته نه ورځم او عصیان او طغیان ته به نه نژدی کیږم، لیکن هر کله چه لږ څه امن او دادینه (قلاری) ئی ور په برخه شی، او وچی ته ئی پښه ورسیږی، نو په شرارتونو باندی لاس پوری کوی، او په ملک کښی شور او شر او فتنه او فساد اچوی، د لږ څه مدت دپاره هم په خپل عهد او پیمان تینگ نه پاتی کیږی.

**تنبیه:** په دغه آیت کښی د اسلام هغو مدعیانو ته لوی عبرت دی چه د جهاز د طوفانی کیدلو په وقت کښی هم د واحد احد الله څخه مخ آړوی، او له غیر الله څخه مدد غواړی. او هغوی

خپلې مرستې(مدد ) ته رابولې. د مکې معظمې د فتحې څخه وروسته، د ابوجهل ځوی عکرمه چه لا نه ؤ مسلمان شوی له مکې معظمې څخه وتښتید، او د سیند سفر ئې اختیار او غوره کړ لږ څه لرې نه ؤ تللې چه د هغه بیړی د طوفانې باد له خوا محاصره شوه، کشتیوان (ملاح) مسافرانو ته وویل چه «یوه واحد احد الله ته غږ وکړئ! دلته ستاسې نور معبودان هیڅ په کار نه درځي» عکرمه وویل «دا خو همغه الله دی چه د هغه په لوری محمد مونږ وربولې که په سیند کښې بې د محمد له ربه نجات نه راپه برخه کیږی نو په وچه کښې هم بې د هغه د لاس نیونې او اعانته نجات موندل محال دی.

ای الله العالمینه! که می ته له دغه مصیبته وباسې، نو زه بیرته ځم او د محمد صلی الله علیه وسلم په لاس بیعت کوم. زه هیله(ارزو) او امید لرم چه دی په خپلو کریمه ؤ اخلاقو سره زما د تولو تقصیراتو بښنه له پاک الله څخه وغواړی.» لکه چه عکرمه د رسول الله په حضور کښې مشرف شو او اسلام ئې ومانه رضی الله عنه.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّمَا بَغۡيُكُمۡ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُم ﴾ الآية ـ ای خلقو! بیشکه هم دا خبره ده چه جزا د شرارت ستاسې پر نفسونو، ځانونو ستاسې ده اوس کوئ تاسې دا عیش د ژوندون لږ خسیس بیا خاص مونږ ته راتله ستاسې دی په قیامت کښې نو خبر به درکړو تاسې ته په هغه عمل چه وی. تاسې چه کاوه به مو، په جزا ورکولو سره ) یعنی ستاسې د شرارتونو وبال پر تاسې لویږی. که څو ورځې مو شرارتونه وکړل، او فرضاً څه دنیوی ګټه(فائده ) مو هم حاصله کړه نو د کار په پای (انجام) کښې د پاک الله دربار ته ورتګ دی. هلته به ستاسې ګرد(تول) اعمال ور د مخه کیږی رب العزت جل جلاله به د هغه سزا درکړی، او تاسې ته به دا درښکاروی، چه ستاسې اعمال څرنګه ؤ.

---

إِنَّمَا مَثَلُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا كَمَآءٍ أَنزَلۡنَٰهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَٱخۡتَلَطَ بِهِۦ نَبَاتُ ٱلۡأَرۡضِ مِمَّا يَأۡكُلُ ٱلنَّاسُ وَٱلۡأَنۡعَٰمُ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَخَذَتِ ٱلۡأَرۡضُ زُخۡرُفَهَا وَٱزَّيَّنَتۡ وَظَنَّ أَهۡلُهَآ أَنَّهُمۡ قَٰدِرُونَ عَلَيۡهَآ أَتَىٰهَآ أَمۡرُنَا لَيۡلًا أَوۡ نَهَارٗا فَجَعَلۡنَٰهَا حَصِيدٗا كَأَن لَّمۡ تَغۡنَ بِٱلۡأَمۡسِۚ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢٤﴾

---

بیشکه هم دا خبره ده چه مثال د دی ژوندون لږ خسیس (په ژر تیریدلو

کښې) پشان د اوبو دی چه نازلې کړی دی مونږ هغه له (طرفه د) آسمانه نو خلط شی په (سبب د) دی اوبو سره (هر قسم) زرغونه د ځمکی له هغه (قسم) چه خوری ئی بنیادمان ( لکه غلې میوی سابه) او چارپایان (لکه انواع د وښو)، تر هغه پوری کله چه واخیست ځمکی زینت خپل او ښه ښایسته شی (په اقسام د نباتاتو، اشکالو او رنګونو) او ګمان وکړی خاوندان د دی (ځمکې) چه بیشکه دوی قادر دی (په هر شانتې ګټه(فائده) اخیستلو سره) په دی ځمکه باندی ناڅاپه راشی دی (ځمکی) ته امر (حکم) زمونږ د شپې یا د ورځې (په خرابی د دی غلو او میوو) نو وګرځوو مونږ دغه (فصل د ځمکې) (لکه) ریبلی شوی (له بیخه لوړولی) ګواکی نه ؤ (دغه کښت په دغی ځمکی کښې) پرون، هم داسی (لکه مذکوره بیان) په تفصیل سره بیانوو مونږ دلائل (د قدرت خپل) دپاره د قوم چه فکر کوی (په مثال کښې او عبرت تری اخلی).

---

**تفسیر:** ځینی د «فاختلط به نبات الارض» معنی د پیداوارو کثرت اخیستی دی. ځکه هر کله چه د ځمکی پیداوار زیات قوی کیږی، نو یو جزء ئی له بل سره ګډیږی او یو له بله سره نښلی. ځینی علماؤ د «به» باء د مصاحبت لپاره اخیستی ده، دغسی معنی ئی کړی ده چه د ځمکی زرغونه له اوبو سره ګډ او مرکب کیږی، ځکه چه د نباتاتو غذا ګرځی د شیخ الهند رحمه الله تعالیٰ له صنیع څخه مترشح کیږی چه له اختلاطه داسی مراد آخیستی دی چه د ځمکی او اوبو د یو ځای کیدلو څخه هغه نباتات چه راوځی په هغه کښې د انسانانو او حیواناتو غذا مخلوطه او ګډه وده وی. مثلاً د غنمو په بوټی کښې دانه د بنیادمانو غذا ګرځی او واښه ئی هم د حیواناتو آذوقه کیږی هم داسی په ونو کښې هم میوی او پانی وی چه د دوی خوړونکی هم سره بیل انواع لری، او سره جلا جلا(جداجدا) دی.

﴿ حَتّٰٓى إِذَآ أَخَذَتِ ٱلْأَرْضُ زُخْرُفَهَا ﴾ الآیة - تر هغه پوری چه واخیست ځمکی زینت خپل او ښائسته شی په اقسام د نباتاتو، اشکالو او رنګونو او ګمان وکړی خاوندان د دی ځمکی چه بیشکه دوی قادر دی په هر شانتې ګټه اخیستلو سره په دی ځمکه باندی) یعنی مختلفو الوانو او اشکالو نباتاتو د ځمکی مخ مزین او ښائسته کړی وی او کښتونه (فصلونه) مزارع او مراتع داسی تیار شوی وی چه په هغه د هغوی د خاوندانو پوره ډاډینه (تسلی) او اعتماد پیدا شوی وی چه اوس له هغه څخه د فائدی آخیستلو پوره وقت او نیته رارسیدلی ده

﴿ أَتَىٰهَآ أَمْرُنَا ﴾ الآیة - ناڅاپه راشی دی ځمکی ته حکم زمونږ د شپې یا د ورځې په خرابی د دی غلو او میوو، نو ګرځوو مونږ دغه فصل د ځمکی لکه ریبلی شوی له بیخه لوړولی ګواکی نه ؤ دغه کښت (فصل) په دغی ځمکی کښی پرون، هم داسی لکه مذکوره بیان په تفصیل سره بیانوو مونږ دلایل د قدرت خپل دپاره د قوم چه فکر کوی په مثل کښی او عبرت تری اخلی) یعنی

ناڅاپه د الله تعالیٰ په حکم د شپې یا د ورځې له مخې کوم آفت (مثلاً سخته سیلې یا ږلۍ یا ملخ یا نور وروورسیږي، او علیٰ هذا القیاس دغه آفت هغه زراعت بیخي داسي پنا کړي ګواکې له سره هلته یوه خاشه نه وه زرغونه شوې کټ مټ (هوبهو) د هم دې په شان د دنیا ژوندون هم مثال لري. اګر که دغه ژوندون ډیر حسین او ترو تازه په نظر راشي، تر دې چه بې وقوف خلق د دې په رونق او ښائست باندې مین او مفتون شي، او اصلي حقیقت بیخي هیر کړي. لیکن د هغه د زرغونتیا، ښائست، زینت د څو ورځو له مخې دی چه ډیر ژر د فناء او زوال په لاس نسیا منسیا کیږي حضرت شاه صاحب دغه مثال په نهایت لطیف طرز خاص په انساني حیات منطبق کړی دی. یعنې د اوبو په شان روح له آسمانه (د علوی عالمه) راځي. او په خاورین کالبوت کښې ننوځي او هلته قوت مومي او د دغو دواړو ګډون څخه آدمي په وجود راځي. بیا په انساني او حیواني دواړو کارونو کښې مشغولیږي. کله چه پر هر هنر او کار کښې پوره شو، او د دې د متعلقینو اطمینان او اعتماد پرې پیدا شو ناڅاپه مرګی ورسیږي، چه هغه دغه ګردې(تولې) روغې جوړې کړې لوبې پای (انجام) ته رسوي. او ورانوي ئې بیا داسي بې نامه او بې نښانه کیږي ګواکې په ځمکه کښې له سره ژوندون او ودان شوي نه ؤ.

**فائده:** «لیلاً او نهاراً»- په شپه او ورځ کښې» ئې ښائي د دې لامله(له وجې) فرمایلې وي چه شپه د غفلت وقت وي او په ورځې کښې خلق عموماً ویښ وي مطلب ئې دا دی کله چه د الله تعالیٰ حکم راورسیږي بیا که څوک ویښ وي که اوده. غافل وي که هوښیار هیڅ یو سړی په هیڅ یوه حالت کښې د هغه مخه نشي نیولې.

---

وَاللّٰهُ يَدْعُوٓا إِلٰى دَارِ السَّلٰمِ ؕ وَيَهْدِي مَنْ يَّشَآءُ إِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۲۵﴾

---

او الله بولي (بندګان خپل) کور د سلامتیا ته (چه جنت دی)، او لاره ښیي هغه چاته چه اراده وفرمائي(د هدایت د ده) لارې سمې ته (چه اسلام دی).

---

**تفسیر:** یعنې د دنیا پر زائل او فاني ژوندون مه نازیږئ، او مه پرې تیر وځئ! او د دارالسلام یعنې د جنت په لورې راشئ! پاک الله تاسې د سلامتي کور ته بولي او تر هغه ځایه پورې ئې د رسیدلو لیار هم درښوولې ده همغه کور دی چه اوسیدونکې ئې له هر راز(قسم) رنځ، غم، پریشاني، تکلیف، نقصان، آفت، فنا، زوال او نورو عوارضو څخه صحیح او سالم پاتي کیږي، او پرښتې پرې سلام آچوي او پخپله د رب العزت جل جلاله له حضوره به هم د سلام تحفې وررسیږي.

لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَىٰ وَزِيَادَةٌ ۖ وَلَا يَرْهَقُ وُجُوهَهُمْ قَتَرٌ وَلَا ذِلَّةٌ ۚ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٢٦﴾

(شته) دپاره د هغو کسانو چه نیکی ئې کړې (ایمان ئې راوړی) نیکه (جزا جنت) او زیادت (له اجره هم شته)، او نه به پټوی مخونه د دوی هیڅ تور ګرد او غبار او نه هیڅ ذلت (رسوائی)، دغه (محسنان) صاحبان د جنت دی، هم دوی په دغه جنت کښی تل اوسیدونکی دی.

**تفسیر:** یعنی ښه کار کوونکو ته هلته ښه ځای (جنت) وررسیږی او له هغه څخه څه زیات هم ور په برخه کیږی یعنی د الله تعالیٰ رضاء او د ده لقاء (دیدار، رزقنا الله تعالیٰ) د «زیادت» تفسیر په لقاء الله سره په څو صحیحه ؤ احادیثو کښی وارد شوی دی. او له ډیرو صحابه ؤ او تابعینو رضی الله تعالیٰ عنهم اجمعین څخه منقول دی حضرت صهیب رضی الله عنه وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه آیت ولوست، او وی فرمایل: کله چه ګرد(تول) جنتیان په جنت او تول دوزخیان په دوزخ کښی داخل شی، نو یو غږ کوونکی به غږ وکړی: «ای جنتیانو ستاسی دپاره د الله تعالیٰ یوه وعده باقی ده چه هغه اوس پوره کېدونکی ده.» جنتیان به وائی چه «هغه څه شی دی؟ آیا پاک الله په خپل فضل سره زمونږ د حسناتو پنګه نه ده درنه کړی؟ آیا زمونږ مخونه ئې سپین او نورانی نه دی کړی؟ آیا ده مونږ له دوزخه نه یو ژغورلی(بچ کړی)؟ او جنت غوندی یو لوی مقام ته ئې نه یو داخل کړی»؟ (بلکه دغه ګرد(تول) شیان شوی دی. او هیڅ یو ئې نه دی باقی) دلته د دوی له منځه به پرده لری کړه شی او جنتیان به د الله تعالیٰ په لوری نظر وکړی نو قسم په الله دی چه د الله تعالیٰ له هر قسم ورکړیو شویو نعمتونو څخه جنتیانو ته د الله تعالیٰ د لقاء دولت به زیات محبوب او مطلوب وی. او د دی په اندازه به بل هیڅ شی د دوی په سترګو کښی ښه نه ورځی او د دوی سترګی به نه یخوی او نه ئې رڼوی پاک الله مو دی خپله لقاء پخپل فضل او کرم سره روزی کړی او سترګی مو دی روڼی او زړونه مو دی پری خوښ کړی آمین ثم آمین.

﴿ وَلَا يَرْهَقُ وُجُوهَهُمْ ﴾ الآية - او نه به پټوی مخونه د دوی هیڅ تور ګرد او غبار او نه هیڅ ذلت رسوائی، دغه محسنان صاحبان د جنت دی هم دوی په دغه جنت کښی تل اوسیدونکی دی) یعنی د عرصات په محشر کښی همغسی چه د فجارو کفارو پر مخونو سخت د ذلت، ظلمت، خواری او رسوائی نښی او آثار به ښکاری، بالمقابل د هغه به د جنتیانو څیری ډیری نورانی، ښایسته او رونقداری وی. او بیخی د ملاحت او صباحت څخه به ډکی وی.

وَالَّذِينَ كَسَبُوا السَّيِّئَاتِ جَزَاءُ سَيِّئَةٍ بِمِثْلِهَا وَتَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ مَا لَهُمْ مِنَ اللَّهِ مِنْ عَاصِمٍ كَأَنَّمَا أُغْشِيَتْ وُجُوهُهُمْ قِطَعًا مِنَ اللَّيْلِ مُظْلِمًا أُولَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٢٧﴾

او هغه کسان چه کسب ئی کړی دی د بدو (لکه کفر او نفاق) جزا د بدی (د دوی) په قدر د بدی ده (نه تری زیاته) او پټوی به دوی لره ذلت (رسوائی)، نه به وی دوی ته له (عذابه د) الله هیڅ ساتونکی ګواکی پټ کړی شوی دی مخونه د دوی په قطعو (ټوټو) د شپې سره حال دا چه تک تور به وی، دغه (مسیئان) صاحبان د اور (د دوزخ) دی، هم دوی به دغه دوزخ کښې تل اوسیدونکی دی.

**تفسیر:** یعنی له بدی څخه به ئی سزا زیاته نه وی. لږه سزا به ورکوله کیږی. یا به ئی ځینی خطاوی ښښلی کیږی، الله تعالیٰ بیخی مختار او اختیارمن دی.

(﴿وَتَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ﴾ او پټوی به دوی لره ذلت او رسوائی) یعنی د دوی څیری به دومره توره تیاره وی ګواکی د توری تیاری شپې توروالی د دوی په مخونو باندی لګیدلی دی. پاک الله مو دی له دغه مخ توروالی او نورو عذابونو څخه پخپل فضل او کرم سره وساتی!

وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشْرَكُوا مَكَانَكُمْ أَنْتُمْ وَشُرَكَاؤُكُمْ فَزَيَّلْنَا بَيْنَهُمْ وَقَالَ شُرَكَاؤُهُمْ مَا كُنْتُمْ إِيَّانَا تَعْبُدُونَ ﴿٢٨﴾

او (یاد کړه ای محمده!) هغه ورځ چه راجمع به کړو دا خلق ټول بیا به وایو هغو کسانو ته چه شرک ئی راوړی دی (ټینګ ودریږئ) په ځایونو خپلو کښې تاسی او (هم) شریکان ستاسی، نو بیلتون به وکړو مونږ په منځ د دوی کښې او وبه وائی شریکان د دوی (دوی ته) چه نه وئ تاسی چه خاص مونږ لره به مو عبادت کاوه (په امر زمونږ سره بلکه تابع وئ تاسی د خپلی هوا).

**تفسیر:** یعنی هغو کسانو چه پخپل خیال کښې د الله تعالیٰ لپاره شریکان درولی وو یا ځینو ته

ئی د الله ځامن او لونی ویل مثلاً مسیح علیه السلام چه د نصاریٰ ؤ په نزد «ابن الله» بلکه «عین الله» ؤ، یا «ملائکة الله» یا «احبار» یا «رهبان» چه دوی ته هم له یوه حیثیته د خدائی منصب ورکړی شوی ؤ. یا اصنام او اوثان چه د مکی مشرکانو پر دوی هم د خدای اختیارات تر یوی اندازی پوری تقسیم کړی وو. نو دغو ګردو(تولو) ته به پخپلو ځایونو کښی حسب المراتب د دریدلو حکم وشی.

فَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ اِنْ كُنَّا عَنْ عِبَادَتِكُمْ لَغٰفِلِيْنَ ﴿٢٩﴾

نو کافی (بس) دی الله شاهد په منځ زمونږ او په منځ ستاسی کښی بیشکه شان دا دی چه وو مونږ له عبادت ستاسی خامخا بی خبران.

**تفسير:** یعنی په دی وقت کښی به عجیبه پریشانی (نول) او نفسی نفسی (ځان ځانی) وی، د عابدینو او معبودینو په منځ کښی په بیلتون لویږی، او د اوهامو او خیالاتو هغه مزی چه پخپل خیال سره ئی سم په دنیا کښی تړلی وو، هغه ګرد(تول) به شلیږی. په دغه هولناک وقت کښی کله چه مشرکینو د خپلو دغو فرضی خدایانو ځنی دیر زیات توقعات (هیلی) درلودلی(لرلی)، هغوی به په ښکاره دول(طریقه) سره جواب ورکوی، چه تاسی له مونږ سره څه تعلق لرئ. تاسی دروغ وایئ چه مونږ د دوی عبادت کاوه تاسی سم له خپلی عقیدی سره د هغو شیانو عبادت چه کاوه او د هغو دپاره مو د الوهیت هغه صفات تجویزول چه په دوی کښی له سره موجود نه ؤ. نو په حقیقت کښی هغه بندګی د «مسیح» یا د ملائکو» عبادت نه ګڼله شی، او نه دغه عبادت په واقع سره د بی روحو بتانو دی، بلکه تاسو د خپل خیال او وهم یا د لعین شیطان عبادت کاوه او هغه به مو پرښتی یا کوم نبی یا کوم ولی یا کومی خیری یا نورو ته منسوبوه، پاک الله شاهد دی چه زمونږ په خوښه یا رضاء او اذن تاسی دغه حرکت نه دی کړی. مونږ نه وو خبر چه تاسی د خپل انتهائی حماقت او سفاهت او ناپوهی لامله(له وجی) مونږ د الله تعالیٰ په مقابل کښی معبودان دروئ.

**تنبيه:** دغه ویناوی که د حضرت مسیح علیه السلام او نورو ذوی‌العقولو مخلوقاتو له لوری وګڼل شی نو هیڅ یو اشکال پکښی نشته. او که د «اصنامو» او بتانو له خوا وی، نو هیڅ بعید نه دی چه الله تعالیٰ د مشرکینو د منتها مایوسی او حسرتناکی، درماندګی او رسوائی او د خپل عظمت او قدرت د اظهار لپاره دغه تیږی(ګتی) او بتان او نور په خبرو راولی. ﴿ قَالُوْٓا اَنْطَقَنَا اللّٰهُ الَّذِيْٓ اَنْطَقَ كُلَّ شَيْءٍ ﴾ (٢٤ جزء د حٰم السجده ٢١ آية (٣) رکوع).

هُنَالِكَ تَبْلُوْا كُلُّ نَفْسٍ مَّآ اَسْلَفَتْ وَرُدُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ

مَوْلٰىهُمُ الْحَقِّ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿٣٠﴾

په دغه ځای کښې به ښکاره ومومي (او وڅکي) هر یو نفس جزا د هغه عمل چه پخوا ئې لیږلی دی او بیرته به بوتله شي دوی الله ته چه مولیٰ د دوی د حق (او واقعي واکدار د دوی دی) او ورک به شي له دوی نه هغه دروغ چه ؤ دوی چه جوړول به ئې (له شفاعت د بتانو)

**تفسیر:** یعني ګرد(تول) دروغ او بې‌اصله توهمات به بیخي له منځه ورک شي. او هر څوک به په رأی‌العین ګوری چه پرته(علاوه) له هغه حقیقي مالک څخه د بل په لوري د رجوع کولو ځای نشته، او د هر یوه سری به د خپلو ښو او بدو په اندازه کولو باندی علم ورسیږی، چه هغه څومره وزن او اندازه لری.

قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ اَمَّنْ يَّمْلِكُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَمَنْ يُّخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَمَنْ يُّدَبِّرُ الْاَمْرَ فَسَيَقُوْلُوْنَ اللّٰهُ فَقُلْ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿٣١﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) څوک رزق روزی درکوی تاسی ته له جانبه د آسمانه (په باران) او له ځمکی (په نباتاتو) بلکه آیا څوک دی چه مالک دی د (پیدا کولو د) غوږونو او د سترګو او څوک دی چه راوباسی ژوندی (لکه بچی، مؤمن، عالم، کښت) له مړی (لکه هګی، کافر، جاهل، دانه)؟ او راوباسي مړی (لکه نطفه) له ژوندی (لکه حیوان)؟ او څوک دی هغه چه تدبیر کوی (د هر کار به منځ د خلقو کښې)؟، نو ژر به ووائي دوی (چه هغه) الله دی، نو ووایه (ای محمده ! دوی ته) نو آیا نه ویریږئ تاسی (له عذابه د الله).

**تفسیر:** د آسمان له لوری باران، او د لمر حرارت او رڼا(رنړا) او نور رارسیږی، او د ځمکی مواد له هغو سره ګډیږی، او په دغو وسائلو سره د انسان روزی او رزق ورمهیا کیږی. (بلکه آیا څوک دی چه مالک دی د پیدا کولو د غوږونو او د سترګو؟) یعنی په داسی عجیبه او غریبه محیرالعقوله طریقه سره کوم ذات ستاسی غوږونه او سترګی پیدا کړی دی، بیا ئې د دوی د

حفاظت سامان پيدا کړی دی. هغه کوم ذات دی چه د دغو ګردو(ټولو) انسانی قواؤ حقيقی مالک دی؟ هر کله چه اراده وفرمائی ورعطا کوی ئی. او هر کله چه اراده وفرمائی بيرته ئی اخلی.
( او څوک دی چه راوباسی ژوندی لکه بچی، مؤمن، عالم، کښت (فصل) له مړی لکه هګی، کافر، جاهل، دانه، او راوباسی مړی لکه نطفه له ژوندی لکه حيوان؟ يعنی) مثلاً له نطفی يا بيضی څنی حيوان بيا له حيوان څنی د نطفی او بيضی پيدا کول. يا په روحانی او معنوی دول(طريقه) سره د هغه سړی يا قوم څنی چه مړه شوی وی د ژوندی زړونو افراد پيدا کوی. او د ژونديو اقوامو پر اخلاقو د دوی د بدبختی لامله(له وجی) موت طاری کوی. (او څوک دی چه تدبير کوی د هر کار په منځ د خلقو کښی) يعنی د دنيا د ګردو(ټولو) کارونو تدبير او انتظام څوک کوی؟ (په جواب کښی دوی پخپله وائی چه الله دی).

فَذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمُ الْحَقُّ فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ اِلَّا الضَّلٰلُ فَاَنّٰى تُصْرَفُوْنَ ﴿٣٢﴾

نو دغه (موصوف په دغو صفاتو سره) الله رب ستاسی دی حق، نو څه شی دی وروسته له حقه (هيڅ نشته) مګر ګمراهی نو کوم خوا ته ګرځولی شئ تاسی (له حقه سره د قيام د برهان په حقانيت د اسلام)

**تفسير:** مشرکينو به هم اعتراف کاوه چه دغه کليه امور او عظيم الشان کار ماسواء د الله تعالٰی څخه بل هيڅوک ئی نشی کولی. نو ځکه ئی وفرمايل کله چه اصلی خالق او مالک او د تمام عالم مدبر تاسی هم دغه پاک الله ګڼئ، بيا نو ولی نه ويريږئ چه ماسواء د دغه الله څخه نور خپل معبود ګرځوئ؟ ښائی چه معبود داسی يو لوی ذات وی، چه خالق‌الکل مالک‌الملک رب مطلق او علی‌الاطلاق متصرف وی. وروسته د هغه د اقرار کولو څخه چيری ژر تر ژره پر خپلو پوندو بيرته ګرځئ؟ کله چه په رښتيا سره همغه ذات واحد احد الله دی، نو وروسته له رښتيا څخه پرته (علاوه) له دروغو بل شی نه دی پاتی؟ د رښتيا پريښودل او دروغو پسی سرګردانه ګرځيدل د پوهانو او عاقلانو کار له سره نشی کيدی.

كَذٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى الَّذِيْنَ فَسَقُوْۤا اَنَّهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٣٣﴾

هم داسی (لکه چه ربوبيت لايق دی الله ته) لايق شو حکم (لازم شو عذاب) د رب ستا پر هغو کسانو چه کافران شوی دی (او ډوب دی په کفر کښی) په سبب د دی چه بيشکه دوی ايمان نه راوړی.

**تفسير:** يعني الله تعالیٰ په ازل کښې د دغو متمردينو او سرکښانو په قسمت کښې ايمان نه دی ليکلی، چه د دوی د ايمان د نه ليکلو سبب د الله تعالیٰ په علم کښې د هغو سرکښی او نافرمانی ده. په دی شان د الله تعالیٰ ښکلی خبره پر دوی د فسق او نافرمانی لامله(له وجی) منطبقه شوه.

قُلْ هَلْ مِنْ شُرَكَآئِكُمْ مَّنْ يَّبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ۭ قُلِ اللّٰهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ﴿۳۴﴾

ووايه (ای محمده! دوی ته) آيا شته له دی شريکانو (بتانو) ستاسی هغه څوک چه پيدا کړی دی خلق په اول کښې بيا ژوندی کړی دوی (پس له مرګه) ووايه (ای محمده! دوی ته) چه الله اول پيدا کوی خلق بيا ژوندی کوی ئی (بعدالموت) نو کوم لوری ته آړول کيږئ تاسی (له سمی لاری، چپی ته؟).

**تفسير:** تر دی ځايه پوری د «مبدأ» ثبوت ؤ اوس د «معاد» ذکر دی يعنی کله مو چه اعتراف وکړ چه د ځمکی او د آسمان او د سمع او بصر او د موت او د حيات او د ګردو(تولو) پيدا کوونکی او اداره کوونکی هم دغه پاک الله دی، نو ظاهر دی چه د مخلوقاتو بيا پيدا کول او وروسته له مرګه بيا ژوندی کول او د دوی اعاده هم د همغه فعل کيدی شی بيا د انبياؤ عليهم السلام په ژبو کله چه دوی په خپله د هغه د اعاده کولو خبر ورکوی د هغه په تسليم کښې څه عذر شته؟ نو وروسته د «مبدأ» د اقرار څخه د «معاد» له لوری کومی خوا ته تاسی درومئ؟

قُلْ هَلْ مِنْ شُرَكَآئِكُمْ مَّنْ يَّهْدِيْٓ اِلَى الْحَقِّ ۭ قُلِ اللّٰهُ يَهْدِيْ لِلْحَقِّ ۭ اَفَمَنْ يَّهْدِيْٓ اِلَى الْحَقِّ اَحَقُّ اَنْ يُّتَّبَعَ اَمَّنْ لَّا يَهِدِّيْٓ اِلَّآ اَنْ يُّهْدٰى ۚ فَمَا لَكُمْ ۣ كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ ﴿۳۵﴾

ووايه (ای محمده! دوی ته) چه آيا شته له دی شريکانو (بتانو) ستاسی هغه څوک چه لاره وښيي حق ته؟، (بيا هم) ووايه (ای محمده! دوی ته) چه الله لاره ښيي حق ته، آيا نو هغه څوک چه لاره ښيي حق ته ډير لايق دی د دی

چه متابعت ئې وکړي شي؟ او که هغه چه (په خپله هم) لاره نشي موندلی؟ مګر چه ده ته لاره وښوولی شي، نو څه باعث دی تاسی لره، څرنګه حکم کوئ (مخالف له مقتضا د عقل).

**تفسير:** د «مبدأ» او «معاد» په منځ کښي د هدايت د واسطو او وسائلو ذکر کوی. يعني همغسی چه ړومبنی پيدا کوونکی او وروستنی ژوندی کوونکی همغه يو الله تعالیٰ دی او بل څوک نه دی. نو هم دغه پاک الله د خپلو بندګانو د «معاد» صحيح او رښتيا لار ښوونکی دی نه بل څوک او په مخلوقاتو کښي لوی دی که ووړکی. ګرد(تول) د ده لارښوونی ته محتاج دی. د ده پر هدايت او لار ښوونه باندی ښائی چه ګرد(تول) لاړ شي. مسکين بت په څه حساب کښي دی چه چاته لار ښوونه وکړی. يا دی پخپله بی د بل چا له هدايته او مرستی(مدد) او لاس نيولو يو پل هم واخيستی شي. نو ځکه د ده لار ښوونه د بندګانو په حق کښي د قبول قابله او وړ نه ده چه ګوندی الله تعالیٰ بی واسطی د هغو لار ښوونه کړی وی. بيا دا څومره بی‌انصافی ده چه انسان هغه مطلق هادی پريږدی او د دغو باطلو او کمزورو معاونينو او لار ښوونکو پسی لوېږی او د هم دوی اسره او هيله(اميد) ونيسی يا مثلاً د احبارو او رهبانو او برهمنانو او پادريانو او نورو په خولو او ښوونو د ړندو په شان تګ کوی او در ګرده په همغه لاره په مندو روان وی (دغه څلورم «يهدی» په اصل کښي «يهتدی» ؤ. بيا «ت» په «د» بدله شوه او «د» په بل «د» کښي مدغم شو او «هـ» مکسوره شوه چه التقاء د ساکنين رانشي).

وَمَا يَتَّبِعُ أَكْثَرُهُمْ إِلَّا ظَنًّا ۚ إِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِي مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِمَا يَفْعَلُونَ ﴿٣٦﴾

او نه کوی متابعت اکثر د دوی مګر د (فاسد اتکل) ګمان، بيشکه ګمان (اتکل) نه بی پروا کوی (هيڅوک) له حقه د هيڅ څيز، بيشکه الله ښه عالم دی په هغه څه چه کوی (ئې) دوی (نو جزا به ورکړی).

**تفسير:** کله چه معلوم شو چه «مبدی» او «معيد» او «هادی» همغه الله تعالیٰ دی، نو د هغه په خلاف د شرک د لاری غوره کوونکو ته فکر کول په کار دی چه د دوی په لاس کښي کوم دليل او برهان شته؟ چه د هغه په بناء د «توحيد» قويم او قديم مسلک پريږدی او د ګمراهی او ضلالت په کوهی کښي ځانونه اچوی، رښتيا خبره خو دا ده چه د دوی سره پرته(علاوه) له ظنونو او اوهامو او چتی(بيکاره) او مهملو خبرو څخه بل هيڅ دليل او برهان نشته، نو د اتکل غشی د حق او صداقت په بحث کښي څه کار ورکولی شي؟.

وَمَا كَانَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ اَنْ يُّفْتَرٰى مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ تَصْدِيْقَ الَّذِىْ بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيْلَ الْكِتٰبِ لَا رَيْبَ فِيْهِ مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۳۷﴾

او نه دی دا قرآن (سره له داسی فصاحته، بلاغته او اعجازه) چه په دروغو جوړ کړ شي غیر له الله نه ولیکن دی تصدیق (رښتینی) کوونکی د هغه (کتاب) چه تیر شوی دی په مخکښی د ده او دی تفصیل کوونکی د هغه څه چه لیکلی شوی دی (پر تاسو) نشته هیڅ شک په ده کښی (چه راغلی دی) له لوری د رب د عالمیانو

**تفسیر:** په پخوانیو آیتونو کښی ئی فرمایلی ؤ چه مشرکین محض د ظن او تخمین پیروی کوی حال دا دی چه د پیروی قابل هغه خبره ده چه صحیح لار راښیی. په هم دی مناسبت ئی دلته د لوی قرآن ذکر شروع کړ چه نن په دنیا کښی همغه یو داسی کتاب دی چه صحیح لار ښوونکی او د ظنونو او اوهامو په مقابل کښی د رښتیا حقایقو وړاندی کوونکی دی. هو! زمونږ د پاک قرآن علوم او معارف او احکام او قوانین او معجز او محیرالعقول فصاعت او بلاغت او جزالت باندی له نظر اچولو څخه دغه راڅرګندیږی چه دغه پاک قرآن بیشکه هم داسی یو کتاب دی چه د پاک قدوس الله له لوری رانازل شوی دی، او د ماسواء الله څخه بل هیڅوک داسی یو معظم کتاب نشی راوړاندی کولی. پوره قرآن دی خو پخپل ځای کښی پاتی وی د هغه د یوه سورت له مثل راوړلو څخه هم تول انسانان او پیریان عاجزان او ناتوانان دی لکه چه وروسته راځی (او نه دی دا قرآن چه لولی ئی محمد صلی الله علیه وآله وصحبه وسلم په تاسی داسی چه جوړ کړی شی د ځانه بلکه هیڅوک ئی نشی ویلی د ځانه غیر له الله تعالیٰ نه یعنی داسی نه ښائی چه دا کلام وی د بشر ولیکن رالیږلی دی الله پاک دا قرآن لپاره د تصدیق د هر هغه کتاب چه تیر شوی دی په مخکښی د ده او په صدق ئی هر څوک قایل دی چه تورات او انجیل او زبور دی او له دغو سره سم او مطابق دی د دین په اصولو کښی ډیر تعجب دی چه هغه حق شو او دغه نشو بلکه د لوی قرآن کلام الٰهيتوب له دی نه ظاهر دی چه د ګردو(تولو) پخوانیو آسمانی کتابونو مصدق او د هغو د اصلی مضامینو حفاظت او د هغو د پخوانیو ویلو صداقت په علانیه ډول(طریقه) سره کوی.

(او مفصل بیانوونکی دی د هر هغه څیز چه لیکل شوی دی په تاسی له اوامرو او نواهیو څخه نشته هیڅ شک په دی کښی چه راغلی دی له جانبه د پروردګار د عالمیانو خو کفار نه منی دا خبره) یعنی د الله تعالیٰ احکام او د ده هغه حقایق او معارف (چه په پخوانیو کتابونو کښی په نهایت اجمالی ډول(طریقه) سره مذکور شوی ؤ) په پوره تفصیل سره ئی بیانوی رښتیا خبره خو

دغه ده چه په دغه کتاب کښې هيڅ يوه عاقل او پوه ته د شک او شبهې هيڅ ځای او ګنجايش نه دی پاتی او دغسې جامع، بليغ او ډک له حکمته او بلاغته او مشعشع او د صداقت او حقانيت له رڼا(رنړا) څخه ډک يوائځې هم دغه د رب العالمين کلام کيدی شي او بس.

أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ ۖ قُلْ فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِّثْلِهِ وَادْعُوا مَنِ اسْتَطَعْتُم مِّن دُونِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٣٨﴾

بلکه آيا وائی دوی چه (محمد) له ځانه جوړ کړی دی دغه، (قرآن)، ووايه (ای محمده! دوی ته) چه نو راوړی يو (لنډ) سورت په شان د ده (په اعجاز کښې) او راوبولئ تاسی هغه څوک چه ستاسی له لاسه کيږی (دی معارضې ته دپاره د معاونت خپل) غير له الله څخه که يئ تاسی صادقان (رښتينی په دغه دعوی د افتراء کښې).

تفسير: يعنی که ما دغه قرآن جوړ کړی وی. نو تاسی هم چه ما غوندی بشر يئ ګرد(تول) سره راتول شئ او د ده د يوه سورت پشان يو سورت راجوړ کړئ! که د تمام جهان ليکونکی او لوستونکی او اميان سره راغونډ شی، او يو وړوکی سورت لکه قرآن غوندی راوړاندی کړی، نو وبوهيږئ چه قرآن عظيم الشان هم د کوم يوه بشر کلام دی. چه د هغه مثال نور خلق جوړولی شی. مګر دغه خبره محاله ده چه تر ابدالاباد پوری کوم مخلوق داسی حوصله وکړی شی.
قرآن کريم خو هغه کتاب دی چه پکښې تهذيب، اخلاق، تمدن، معاشرت، حکومت، سياست، معرفت، روحانيت، تزکية النفوس، تنويرالقلوب، الغرض د وصول الی الله لاری او د خلق الله د تنظيم او رفاهيت د چارو هغه ګرد(تول) قوانين او اصول شته چه په هغو د عالم د تخليق غرض تکميل او پوره کيږی او د هغه په ترتيب او تدوين کښې د يوه امی قوم د يوه امی فرد څخنی هيڅکله داسی اميد نشی کيدی بيا د دغه ګردو(تولو) علومو او هداياتو تکفل سره، د دی کتاب غلغله آچوونکی فصاحت او بلاغت، جامع او مؤثر (زړه وړونکی) طرز بيان د سيند په شان تموج، سهل الممتنع سلاست او روانی، او د اساليب الکلام تفنن او د هغه لذت او حلاوت او شهنشاهی توب شان او شوکت، دا ګرد(تول) داسی شيان دی چه هغو په ډير زور او شور او لوړ غږ سره ګرد(تول) جهان ته د مقابلی اعلان وکړ له هغه وقته راهيسی چه د لوی قرآن جهان ښائسته کوونکی جمال د غيب له مخی نقاب لری کړ او د آدم اولاد ئی له خپله ځانه سره آشنا کړ د هغه پرله پسی همغه دعوی ده چه زه د الله قدوس کلام يم او همغسی چه د الله تعالیٰ د ځمکی په شان بله ځمکه او د الله تعالیٰ د لمر په شان بل لمر او د الله تعالیٰ د آسمان په شان بل آسمان له پيدا کولو څخه ګرد(تول) جهان عاجز او حيران دی همغسی د الله تعالیٰ د قرآن په

شان د بل بیان د اتیان څخه هم تول جهان عاجز او حیران دی. د دغه قرآن کریم د امحاء لپاره به خلق سازشونه کوی، او مکرونه او پلمی (تدبیرونه) به جوړوی او د مقابلی او مناقشی په جوش کښی به خپل ځانونه په مرګ کښی غورځوی، او د خپلی مرستی(مدد) لپاره د دنیا ډیر لوی قوتونو ته بلنه او دعوت ورکوی، مګر هیڅ یوه حیله (مکر) ، هیڅ یو تدبیر او هیڅ یو فریب او چل به د پاک قرآن په مقابل کښی نه چلیږی. او خوشی به دوی ځانونه او نور په مصائبو کښی آچوی. او متاعب بر ځانونو اخلی مګر پرته(علاوه) له مصاعبه او متاعبه او دواهی او سرګردانی، بل هیڅ شی به د دوی په برخه نه کیږی او د قرآن کریم د یوه وړوکی سورت راوړل به هم هغو ته ممکن نه وی: ﴿ قُلْ لَئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنْسُ وَالْجِنُّ عَلَىٰ أَنْ يَأْتُوا بِمِثْلِ هَٰذَا الْقُرْآنِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا ﴾ (۱۵ جزء د بنی اسرآئیل (۸۸) آیت (۱۰) رکوع) پر دغی مسئلی مو په هغی رسالی کښی چه په (اعجازالقرآن) سره موسومه ده په زړه پوری خبری کړی دی شائقین دی هغه ووائی. (بیا دوی یو سورت هم را نه وړ نو الله فرمائی)

بَلْ كَذَّبُوا بِمَا لَمْ يُحِيطُوا بِعِلْمِهِ وَلَمَّا يَأْتِهِمْ تَأْوِيلُهُ ۚ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۖ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظَّالِمِينَ ﴿٣٩﴾

بلکه نسبت د دروغو ئی وکړ په هغه قرآن چه پوره نه ؤ رسیدلی دوی په علم د هغه او نه ؤ راغلی دوی ته معنی او حقیقت د دی قرآن، هم داسی (لکه هم دغو مکذبانو) تکذیب کړی وو (د خپلو انبیاؤ) هغو کسانو چه وو پخوا له دوی نه نو وګوره ته چه څرنګه وو عاقبت (آخره خاتمه) د ظالمانو (تکذیب کوونکو د انبیاؤ)

**تفسیر:** یعنی پاک قرآن ته «مفتری» ویل د پوه او عقل کار نه، بلکه محض د ناپوهی، جهل، سفاهت او قلت تدبر له جهته دی، او تعصب او عناد هغو ته اجازه نه ورکوی چه په سړه سینه او قرار زړه د قرآن پر حقائقو او د ده د اعجاز پر وجوهو غور وکړی! د بدفهمی یا د فکریه ؤ قواؤ د ښه نه استعمالولو لامله(له وجی) کله چه د پاک قرآن پر دلائلو او عجائبو په پوره ډول(طریقه) سره نشئ پوهیدی نو د هغه پر دروغجن کولو باندی لاس مه پوری کوئ! (او حال دا چه لا نه ؤ راغلی دوی ته یعنی لا نه وه برسیره شوی معنی او حقیقت د دی قرآن) ځینو مفسرینو د «تاویل» معنی په «تفسیر» سره کړی ده. یعنی د پاک قرآن مطالب د دوی په دماغو کښی په پوره ډول(طریقه) سره نه دی لویدلی. او ځینی له هغه قرآنی پخوا ویل مرادوی. یعنی د تکذیب یوه وجه د ځینو ناپوهانو او ساده کسانو په حق کښی دا هم ده چه د مستقبل په نسبت هغه

اخبار چه پاک قرآن ورکړی دی، د هغو وقوع تر نن پوری نه ده شوی، نو ځکه دوی منتظر دی چه د هغو ظهور به کله کیږی مګر لږ فکر کول په کار دی چه دغه د تکذیب سبب څرنګه کیدی شي؟ زائد له زائده دا دی که دا د توقف وجه شي نو شي دی (مګر خو د تکذیب وجه نشي کیدی).

---

وَ مِنْهُمْ مَّنْ يُّؤْمِنُ بِهٖ وَمِنْهُمْ مَّنْ لَّا يُؤْمِنُ بِهٖ ؕ وَرَبُّكَ اَعْلَمُ بِالْمُفْسِدِيْنَ ﴿٤٠﴾

---

او ځینی له دی (مکذبانو) هغه دی چه ایمان راوړی پر دغه (قرآن) او ځینی له دوی نه هغه دی چه ایمان نه راوړی په دغه (قرآن هیڅکله)، او رب ستا ښه عالم (دانا) دی پر (حال د) مفسدانو

---

**تفسیر:** یعنی وروسته له دی نه له دوی څنی ځینی کسان مسلمان کیدونکی دی له هغو څخه تاسی سترګی واړوئ! باقی هغه کسان چه پر خپلو شرارتونو قایم پاتی کیږی (بلکه په کفر به ومری) پاک الله پر هغو ګردو(تولو) عالم دی. او په مناسبو موقعو کښی به هغوی ته مناسبه سزا ورکوی. (ځینی د دی آیت ترجمه داسی کوی: او ځینی له دی مکذباتو هغه څوک دی چه باور لری په دی قرآن چه له جانبه د الله تعالیٰ حق راغلی دی اما پټ په زړه کښی او اظهار ئی له دیره عناده نه کوی، او ځینی نور له دوی هغه څوک دی چه ایمان نه راوړی او باور نه لری په دی قرآن له دیر جهل او ناپوهی.)

---

وَاِنْ كَذَّبُوْكَ فَقُلْ لِّيْ عَمَلِيْ وَلَكُمْ عَمَلُكُمْ ۚ اَنْتُمْ بَرِيْٓـُٔوْنَ مِمَّآ اَعْمَلُ وَاَنَا بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿٤١﴾

---

او که تکذیب وکړی دوی ستا نو ووایه (ای محمده دوی ته چه) ماته (جزا د) عمل ځما ده او تاسی ته (جزا د) عمل ستاسی ده، تاسی بیزاره یئ له (جزا د) هغه کار چه کوم ئی زه او زه هم بیزاره یم له (جزا د) هغه کارونو چه کوئ ئی تاسی.

---

**تفسیر:** یعنی که د داسی دلائلو او براهینو د آوریدلو څخه وروسته هم دغه خلق ستاسی تکذیب

وکړی نو تاسی ووایئ چه ما خو خپل فرض اداء کړی دی مګر که تاسی سره له پوهولو هم نه پوهیږئ نو اوس زمونږ او ستاسی لیار سره بیله ده. تاسی د خپل عمل ذمه وار یئ او زه د خپل عمل هر چاته به د ده د عمل ثمره ور په برخه کیږی. حضرت شاه صاحب لیکی چه: «معاذالله که زه د الله تعالیٰ حکم په غلطه درورسوم نو زه به ګنهګاریږم او که زه ئی په رښتیا سره راوړونکی اوسم او تاسو ئی ونه منئ نو د هغه ګناه ستاسی په غاړه ده په هر حال په منلو کښی ستاسی هیڅ ډول(طریقه) نقصان نه دی» (ځینی وائی چه دا آیت منسوخ دی په آیت د سیف سره).

وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّسْتَمِعُوْنَ اِلَيْكَ ۭ اَفَاَنْتَ تُسْمِعُ الصُّمَّ وَلَوْ كَانُوْا لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۴۲﴾
وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّنْظُرُ اِلَيْكَ ۭ اَفَاَنْتَ تَهْدِي الْعُمْيَ وَلَوْ كَانُوْا لَا يُبْصِرُوْنَ ﴿۴۳﴾

او ځینی له دی کفارو هغه کسان دی چه غوږونه نیسی تاته (تمسخراً یا ظاهراً)، آیا نو ته آوروی (مادر زاده) کاڼه (بلکه نشی کولی) او اګر که وی دوی چه هیڅ عقل هم نه لری (سمع او عقل ئی دواړه ورک وی). او ځینی له دوی هغه دی چه ګوری تاته (د سر په سترګو) آیا نو ته به لاره وښیی (مادر زادو) ړندو ته او اګر که وی دوی چه هیڅ بصیرت (او پوه) نه لری (یعنی نه ئی شی پوهولی).

**تفسیر:** ځینی خلق اګر که په ظاهره سره لوی قرآن او د رسول الله مبارک کلام آوری او د دوی معجزات او کمالات ګوری، مګر هغه اوریدل او لیدل نافع دی چه د زړه په غوږونو او د زړه په سترګو سره وی دا ستاسی په اختیار کښی نه ده چه کڼو زړونو او کڼو غوږو ته خبره واوروی. په دی حال کښی چه دوی د زیات کاڼه توب لامله(له وجی) قطعاً په حق کلام باندی نشی پوهیدی یا ړندو زړونو ته د حق لیار وښوولی شی کله چه په دوی کښی د بصیرت ماده نشته. په «موضح القرآن» کښی لیکی: «یعنی غوږونه لری او په خپلو سترګو سره په دغی توقع ګوری چه تاسی زمونږ په زړونو باندی تصرف وکړئ، لکه چه پر ځینو وکړ شو خو دغه خبره د الله تعالیٰ په قدرت کښی ده ځینو مفسرینو له «لا یعقلون» څخه د مطلق عقل او له «لا یبصرون» څخه د بصیرت نفی مراد کړی ده مطلب دا دی چه داسی ړانده او کاڼه دی چه برسیره پر نه اوریدلو او نه لیدلو له هر راز(قسم) پوه او ادراک څخه هم محروم او بی برخی دی، نو تاسی په څه ډول(طریقه) سره دوی ته خبری آورولی او وربښکاره کولی او حق پری قبلولی شئ؟.

اِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ النَّاسَ شَيْـًٔا وَّلٰكِنَّ النَّاسَ اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۴۴﴾

بيشكه چه الله نه كوى ظلم پر خلقو هيڅ قدر وليكن خلق پر نفسونو (ځانونو) خپلو ظلم كوى (چه خپل عقل او حس په ملاهيو كښي په كار آچوى).

**تفسير:** يعني د هغو په زړونو كښي چه اثر نه غورځوى دا د دوى تقصير دى چه په خپلو بى‌اعتداليو او غلط كاريو سره ئى خپلى ادراكى قوى تباه كړى دى، كه نه په اصل فطرت كښي هر انسان ته الله تعالىٰ د پوهيدلو او قبلولو استعداد ښىلى دى.،

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ كَأَنْ لَّمْ يَلْبَثُوٓا إِلَّا سَاعَةً مِّنَ النَّهَارِ يَتَعَارَفُونَ بَيْنَهُمْ قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِلِقَآءِ اللَّهِ وَمَا كَانُوا مُهْتَدِينَ ﴿٤٥﴾

او هغه ورځ چه (پس له مرګه الله) راجمع كړى كفار حال دا لكه چه مدار نه ؤ كړى دوى (په دنيا يا په قبر كښي) مګر په قدر د يوه ساعت له ورځى پيژنى به دوى يو تر بله پخپلو منځونو كښي (په دغى ورځى كښي)، په تحقيق زيانمن شوى دى هغه كسان چه تكذيب ئى كړى دى د ملاقات د الله او نه ؤ دوى سمه صافه لاره موندونكى.

**تفسير:** يعني د محشر د هولناكو اهوالو او حوادثو د ليدلو څخه د ګرد(تول) عمر عيش، عشرت، آرمتيا او هوسائى (خوشالى) دومره حقيره او قليله په نظر ورځى چه ګواكى په دنيا كښي ئى د يوه ګړى څخه زياته هستوګنه نه وى كړى، او افسوس به كوى چه ګرد(تول) عمر مى څومره په فضول او بيكاره تير شوى دى لكه چه سرى يوه ګړى يا دوه ګړى هم داسى په چتى(بيكاره ) او چپو خبرو اترو كښي تيروى. او هم د هغه ځاى د زړه چاودونكو مصائبو د ليدلو څخه داسى خيال كوى چه ګواكى په دنيا كښي دومره زيات نه دى پاتى شوى او دغه ويروونكى وقت يو ناڅاپه رارسيدلى دى هلته تش يو ساعت يا دوه ساعته پاتى شوى يم، او دغه دى چه سم د لاسه دلته رسيدلى، او په دغو ربړو (تكليفونو) كښي اخته شوى يم كاشكى د هغه ځاى د قيام مدت مى لږ څه دير وى. او دغى بدى ورځى ته دغسى ژر نه وى رسيدلى. ځينى مفسرين وائى چه د برزخ (قبر) هستيدلو مدت به ورته لكه يوه ګړى ښكارى والله اعلم.
(په دى حال كښي چه پيژنى به دوى يو تر بله سره پخپلو منځونو كښي اما دا معرفت به په وقت د خروج كښي وى له قبورو، او بيا چه له هوله د قيامته سختى پرى ديره شى نو دا تعارف به سره ورک شى، او يو له بله سره به) هيڅ مدد ونه كړى شى. او نفسى نفسى غږونه به پورته

كيږي. ورور به ورور او پلار به د ځوی په كار نه ورځي: ﴿ فَلَآ أَنسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ وَلَا يَتَسَآءَلُونَ ﴾ (١٨ جزء د المؤمنون (١٠١) آيت (٦) ركوع) ﴿ يَوْمَ يَفِرُّ ٱلْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ وَأُمِّهِ وَأَبِيهِ وَصَٰحِبَتِهِ وَبَنِيهِ ﴾ (٣٠ جزء د عبس د سورت ٣٤ آيت)(په تحقيق زيانكاران دي هغه كسان چه نه مني ملاقات د الله تعالىٰ يعني منكران دي د حشر له حسابه او نه دي دوی لاره موندونكي) پاتي شول هغه كسان چه د لقاء الله تصديق ئې كړی. او په سمې لارې تللي دي، نو دوی بيخي په فائدو كښې گټور دي.

وَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ ٱلَّذِى نَعِدُهُمْ أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ ٱللَّهُ شَهِيدٌ عَلَىٰ مَا يَفْعَلُونَ ﴿٤٦﴾

او كه وښيو خامخا تاته ځيني له هغه عذاب چه وعده ئې كوو له دوی سره (نو هغه خو به وگوری په حيات خپل كښې) او كه وفات كړو تا (پخوا له تعذيب د دوی نه) نو خاص مونږ ته بيا راتله د دوی دی بيا نو الله شاهد دی په هغو كارونو چه كوی ئې دوی (نو د دوی تعذيب به تاته دروښيو په آخرت كښې)

**تفسير:** يعني هغه وعدی چه مونږ د كفارو د عذاب وركولو او د اسلام د غالب او منصور گرځولو كړی دی اگر كه د هغو ځيني وعدی تر يوه حده پوری ستاسي په موجوديت پوره درښوولي شوی دی، لكه د «بدر» او نورو مظفريت يا وروسته د وفات ستاسي به په عمل راځي نو بنا پر دغه كه ستاسي په حضور كښې د هغو ظهور رانشي په هر صورت دغه يقيني دی چه هغه گرد(تول) پوره كيدونكي وی. كه بنا پر كوم مصلحت كفارو ته په دنيا كښې سزا ورنه كړه شي نو په آخرت كښې به وررسيږی، زمونږ له لاسه دوی نجات نشي موندلي او نه تښتيدلي شي او د گردو(تولو) بيرته راتلل زمونږ په لوری دی او د تولو مخلوقاتو گرد(تول) اعمال زمونږ په مخ كښې پراته دی، حضرت شاه صاحب ليكي: «د اسلام غلبه تر يوی اندازی پوری د رسول الله په حضور كښې په ظهور ورسيده او نوری د دوی د وفات څخه وروسته د دوی د خلفاؤ په لاسونو كښې وشوی گواكي په «نتوفينك» كښې هم دغه لوری ته اشاره ده. والله اعلم

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولٌ ۖ فَإِذَا جَآءَ رَسُولُهُمْ قُضِىَ بَيْنَهُم بِٱلْقِسْطِ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٤٧﴾

او لپاره د هر امت یو رسول دی نو کله چه را به غی (دوی ته) رسول د دوی (او دوی به ونه مانه) نو حکم به وکړ شو په منځ د دوی کښې په انصاف سره (چه رسول او مؤمنانو نجات مونده او مکذبین هلاکیدل) حال دا چه دوی به مظلومان نه ؤ (په دغه تعذیب کښې).

**تفسیر:** پخوا له دی نه د دی امت او د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ذکر وو اوس د نورو اقوامو او اممو ضابطه راښیی چه هر جماعت او هری فرقی ته د الله تعالیٰ پیغام رسوونکی رسول (استاځی) ورلیږلی شوی دی تر څو د الله تعالیٰ حجت تمام شي. د حجت د اتمامه څخه پخوا هیچا ته عذاب نه ورکاوه کیږی خلق عمل لا له پخوا څخه کوی مگر په دنیا کښې هغو ته سزا وروسته د رسول د رسیدلو او د حجت له اتمامه ورکوله شي. د الله تعالیٰ له لوری ظلم، تیری او بیانصافی نه ده چه بی د پخوا خبرولو او الزام آړولو او د جرم د اثباته، مجرمانو ته د دوی فیصله واوروی په قیامت کښې سم د عدل او انصاف له قواعدو سره د دوی دعوی وړاندی کیږی، او د دوی د هر هر فرد بیل بیل جرمونه توضیح کیږی او شاهدان تیریږی، او له هر قوم سره به د دوی رسولان وړاندی کیږی، او د دوی د بیاناتو د آوریدلو څخه وروسته به په ډیر ښه انصاف سره فیصله صادریږی: ﴿ وَاَشْرَقَتِ الْاَرْضُ بِنُوْرِ رَبِّهَا وَوُضِعَ الْكِتٰبُ وَجِايْٓءَ بِالنَّبِيّٖنَ وَالشُّهَدَاۗءِ وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴾ (۲٤) جزء الزمر (٦٩) آیت (۷) رکوع) مجاهد او نورو دغه آیت د قیامت پر احوالو حمل کړی دی.

وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۴۸﴾

او وائی دوی (په مسخرو یا په استبعاد) کله به وی دغه وعده که یئ تاسی (ای رسوله ای مؤمنانو) صادقان (په دغه وعده کښې نو رائیولیځ)

**تفسیر:** یعنی د عذاب د راتللو څخه کوم ویرول چه کیږی دغه بیخی دروغ او بی اصله دی که واقعی ته رښتینی ئی نو ولی هغه عذاب نه راولی؟ آخر دغه وعده به کله پوره کیږی؟

قُلْ لَّآ اَمْلِكُ لِنَفْسِيْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا اِلَّا مَا شَاۗءَ اللّٰهُ ۭ لِكُلِّ اُمَّةٍ اَجَلٌ ۭ اِذَا جَاۗءَ اَجَلُهُمْ فَلَا يَسْتَاْخِرُوْنَ سَاعَةً وَّلَا يَسْتَقْدِمُوْنَ ﴿۴۹﴾

ووایه (ای محمده!) نه یم مالک دپاره د ځان خپل (د دفع کولو) د ضرر او

نه (د رسولو) د نفعی مګر د هغی (نفعی او ضرر) چه اراده وفرمائی الله، لپاره د هر امت یوه نیته ده (د هلاک)، کله چه راشی هغه اجل (نیته د مرګ) د دوی نو نه به وروستی کیږی دوی (د دغی نیتی خپلی) یو ساعت (یوه ګړی) او نه ړومبی کیږی دوی (پری)

**تفسیر:** یعنی د عذابونو او نورو درلیږل د الله تعالیٰ کار دی، او هغه ځما په قبضه او اختیار کښی نه دی. زه خو د خپلی نفعی او نقصان یواځی دومره مالک یم چه هومره د الله تعالیٰ اراده او رضاء وی نو بیا پر نورو د نیکی یا د بدی د وارد کولو مستقل اختیار ماته له کومه شو؟ د هر قوم لپاره یو مدت او میعاد د الله تعالیٰ په علم کښی مقرر دی، کله چه هغه میعاد پوره شی، نو هغه وقت به ورسیږی د بنو د یوه رپ په اندازه تخلف پکښی نه کیږی، الغرض د عذاب د ژر غوښتلو څخه تاسی ته هیڅ یوه فائده په لاس نه درځی هغه وقت چه د الله تعالیٰ په علم کښی غوته او تاکلی(مقرر) او معین شوی دی، هغه یوه دقیقه نه وړاندی او نه وروسته کیږی او پوره په همغه وقت کښی رسیدونکی او ورځکیدونکی دی. د «زمخشری» په نزد ﴿ فَلَا يَسۡتَـٔۡخِرُونَ ﴾ او ﴿ وَلَا يَسۡتَقۡدِمُونَ ﴾ له دی نه کنایه ده چه د عذاب پخپل معین وقت کښی راتلل مقرر او معین او غوته شوی دی په کنایه کښی د تقدم او تاخر حقیقت ته نفیاً یا اثباتاً څه اعتبار او تعرض نه وی. فتنبه له

قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِنۡ أَتَىٰكُمۡ عَذَابُهُۥ بَيَٰتًا أَوۡ نَهَارٗا مَّاذَا يَسۡتَعۡجِلُ مِنۡهُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ۝٥٠

ووایه (ای محمده! دوی ته چه) آیا وینئ تاسی (یعنی خبر راکړئ ماته) که راشی تاسو ته عذاب د الله د شپی یا د ورځی نو څه به وی هغه (عذاب) چه په جلتی سره غوښت له هغه نه مجرمانو (کافرانو) (یا) نو څه به وکړی پخوا له هغه څخه مجرمان (ګنهګاران). (یا) نو څه دی هغه (عذاب) چه تلوار کوی په راتلو د هغه مجرمان (کافران).

**تفسیر:** یعنی که د شپی اوده وی، یا د ورځی کله چه په دنیوی کارونو کښی لګیا وی، که یو ناڅاپه د الله تعالیٰ عذاب ئی ونیسی نو که مجرم په دغه صورت کښی جلتی هم وکړی نو څرنګه به خپله ژغورنه (بچاو) او نجات وکړی شی؟ کله چه خپل ځان نشی ژغورلی (بچ کولی) نو بیا د وقت د پوښتنی کولو څخه څه فائده وررسیږی؟ شیخ الهند رحمة الله علیه د ﴿ مَّاذَا يَسۡتَعۡجِلُ مِنۡهُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ﴾ ترجمه د حضرت شاه صاحب د مذاق سره موافقه کړی ده. لیکن نورو مفسرانو

د هغه مطلب داسی لیکلی دی چه «د الله تعالیٰ د عذاب په راتللو کښی کومه د خوښی داسی خبره او د خوند واقعه ده؟ چه د هغی په وسیله مجرمین د هغی مطالبه په جلتی او تلوار سره وکړی، بیا دا څه د تعجب ځای دی چه مجرمین د داسی خوفناک شی په مطالبه کښی څرنګه تلوار او جلتی کوی، حال دا چه د یوه مجرم لپاره خو وړ (مستحق) او لایق دا ؤ چه هغه د راتلونکی سزا له تصوره لړزیدی او د ویری لامله(له وجی) مړ کیدی (البحر المحیط).

أَثُمَّ إِذَا مَا وَقَعَ آمَنتُم بِهِ ۚ آلْآنَ وَقَدْ كُنتُم بِهِ تَسْتَعْجِلُونَ ﴿٥١﴾

آیا کله چه واقع شی (دغه عذاب) نو ایمان به راوړئ تاسی په هغه، (الله فرمائی) آیا اوس (ایمان راوړئ چه عذاب نازل شو) حال دا چه په تحقیق وئ تاسی چه په (غوښتلو د) دغه (عذاب) به مو جلتی کوله

**تفسیر:** یعنی د عذاب دغه ژر غوښتنه د دی لپاره کوی چه هغوی د عذاب په نزول نه دی متیقن که دوی په دغه وقت کښی متیقن کیدل نو فائده ئی ورته رسوله، او د خپل نجات لپاره به ئی کوښښ کاوه. که د عذاب د راتګ څخه وروسته ئی یقین راشی نو څه فائده به ور ورسیږی په دغه وقت کښی به د الله تعالیٰ له لوری ویل کیږی چه ښه اوس خو تاسی قائلان شوئ، حال دا چه پخوا مو دغه دروغ بلل ځکه چه تقاضا کول هم د دروغ ګڼلو او مسخرو کولو په نیت ؤ که نه دغه وقت د اقرار کولو څخه هیڅ یوه فائده به در ونه رسیږی.

﴿ فَلَمَّا رَأَوْا بَأْسَنَا قَالُوا آمَنَّا بِاللَّهِ وَحْدَهُ وَكَفَرْنَا بِمَا كُنَّا بِهِ مُشْرِكِينَ فَلَمْ يَكُ يَنفَعُهُمْ إِيمَانُهُمْ لَمَّا رَأَوْا بَأْسَنَا ۖ سُنَّتَ اللَّهِ الَّتِي قَدْ خَلَتْ فِي عِبَادِهِ ۖ وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْكَافِرُونَ ﴾ (٢٤ جزء د المؤمن (٨٤-٨٥) آیت (٩) رکوع).

ثُمَّ قِيلَ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا ذُوقُوا عَذَابَ الْخُلْدِ هَلْ تُجْزَوْنَ إِلَّا بِمَا كُنتُمْ تَكْسِبُونَ ﴿٥٢﴾

بیا به وویل شی هغو کسانو ته چه ظلم ئی کړی وی وڅکئ عذاب (دائم) د همیشګی، آیا سزا به درکولی شی تاسی ته (نشی به درکولی) مګر په سبب د هغه شرک او تکذیب چه وئ تاسی چه کول به مو (یا) نه درکولی شی جزاء مګر په سبب د هغی چه وئ تاسی چه کول به مو (چه هغه شرک او تکذیب ستاسو دی).

**تفسير:** هغه كفر او شرك او تكذيب مو چه كولو، اوس د هغه خوند د تل دپاره وڅكئ! دغه به په قيامت كښې وويله شي.

وَيَسْتَنْبِئُونَكَ أَحَقٌّ هُوَ قُلْ إِي وَرَبِّي إِنَّهُ لَحَقٌّ وَمَا أَنتُم بِمُعْجِزِينَ ﴿٥٣﴾

او پوښتنه كوى له تا نه چه آيا حق دى دا (قرآن يا دعوى د نبوت يا عذاب؟ كه مسخرى كوى؟)، ووايه (اى محمده! دوى ته) هو! قسم دى وى زما په رب خپل چه بيشكه دغه خامخا حق دى، او نه يئ تاسى عاجزوونكى (د الله چه له عذابه ئى ځان خلاص كړئ).

**تفسير:** يعنى د غفلت په نشه كښې بى سده شوى په تعجب سره پوښتنه كوى چه آيا دغه خبره رښتيا ده چه مونږ وروسته له مرګه بيا ژوندى كيږو؟ او د دائمى عذاب خوند به وڅكو؟ آيا په رښتيا سره وروسته له بخركى بخركى كيدلو او له خاورو سره ګډيدلو به بيا له نوى سره ژوندى كيږو. (اى محمده!) تاسو وفرمايئ دوى ته چه دا څه د تعجب خبره ده؟ دغه پيښه خو هرومرو(خامخا) باليقين كيدونكى ده ستاسى ګډ كيدل په خاورو كښې او بخركى بخركى كيدل الله تعالىٰ له دغه څخه نه شى عاجزولى چه د پخوا په شان بيا تاسى همغسى پيدا كړى او د شرارتونو خوند مو دروڅكوى. ممكن نه دى چه تاسى د ده د قبضى څخه بهر لاړ شئ يا چيرته په تيښته سره وتښتئ، او (معاذالله) پاك الله عاجز كړى شئ.

**تنبيه:** د دى آيت سره مشابه دوه نور آيتونه په پاك قرآن كښې شته يو د «سبا» په سورت كښې ﴿ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَأْتِينَا السَّاعَةُ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتَأْتِيَنَّكُمْ ﴾ دوهم د «تغابن» په سورت كښې ﴿ زَعَمَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَن لَّن يُبْعَثُوا قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ وَذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ﴾ دغه دواړه د قيامت او معاد په متعلق دى. په هم دغه مناسبت دغه حاضر آيت حافظ ابن كثير رحمة الله عليه د معاد په متعلق ايښى دى.

وَلَوْ أَنَّ لِكُلِّ نَفْسٍ ظَلَمَتْ مَا فِي الْأَرْضِ لَافْتَدَتْ بِهِ وَأَسَرُّوا النَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُا الْعَذَابَ وَقُضِيَ بَيْنَهُم بِالْقِسْطِ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٥٤﴾

او كه بيشكه (مملوك شى) دپاره د هر نفس چه ظلم ئى كړى وى (پخپل ځان باندى په كفر او شرك سره) هغه چه دى په ځمكه كښې نو خامخا به فديه وركړى دغه نفس په دغه (هر څه سره له عذابه)، او وبه مومى دوى (په زړونو خپلو كښې (په ترك د ايمان) پښيمانى كله چه ووينى دوى عذاب او

فيصله به وکړه شي په منځ د دوی (يعنی د خلائقو) کښې په انصاف او حال دا چه دوی به مظلومان نه وی.

**تفسير:** يعنی که فرضاً د ځمکې د مخ ګردی(تولې) خزانې د ده په قبضه کښې وی، نو کوښښ به وکړی چه هغه تول ورکړی او د الله تعالیٰ له عذابه ځان وژغوری(بچ کړی) (کله چه دوی لره مالکيت د «مافی الارض» نشته، نو فديه ورکول هم نشته او له عذابه هم نجات نه مومی. او ښکاره به کړی دوی پښيمانی يا پټه به ئې کړی او وبه مومی دوی په زړونو خپلو کښې پښيمانی په ترک د ايمان سره او دا ځکه چه دا لفظ د «اسروا» له اضدادو څخه دی نو ځکه اطلاق ئې پر دواړو صحيح دی يعنی او بيا مومی دوی په زړونو خپلو کښې درد او پښيمانی او) پخپلو حرکاتو به پښيمانيږی، او غواړی به چه نور خلق د دوی پر دغی پښيمانی خبر نشی مګر بالاخر بی‌اختياره به هغه ښکاروی او په هغه وقت کښې به ووائی: ﴿ يٰحَسْرَتٰى عَلٰى مَا فَرَّطْتُ فِى جَنْۢبِ اللّٰهِ ﴾ او ﴿ يٰوَيْلَنَا قَدْ كُنَّا فِىْ غَفْلَةٍ مِّنْ هٰذَا ﴾

أَلَآ إِنَّ لِلّٰهِ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۗ أَلَآ إِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّلٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٥٥﴾

واورئ خبردار شئ چه بيشکه خاص الله لره دی هر هغه څه چه په آسمانونو او په ځمکه کښې دی (سره له آسمانونو او ځمکې ملکاً و خلقاً و عبيداً) واورئ خبردار شئ چه بيشکه وعده د الله حقه ده وليکن زيات له خلقو (چه کفار دی) نه پوهيږی (پرې)

**تفسير:** يعنی په ګرد(تول) جهان کښې يواځې د پاک الله حکومت دی او د عدل او انصاف اجراآت کيږی او هيڅ يو مجرم به ترې ونشی تښتيدی. او نه هيڅ يو مجرم به په رشوت او بدی ورکولو سره خپل ځان ژغورلی(بچ کولی) شی. (او نه الله تعالیٰ له چا فديه قبلوی ځکه چه دی غنی او بی‌پروا دی له هر چا او هر شيز څخه او ښه قادر دی په ثواب او عقاب لکه چه فرمائی واورئ خبردار شئ چه بيشکه وعده د الله حقه او رښتيا ده وليکن زيات له خلقو چه کفار دی نه پوهيږی په خير او شر خپل) يعنی د بدو استعدادو، بدفهمی او غفلت لامله(له وجی) اکثر خلق پر دغو حقائقو نه پوهيږی نو ځکه هر څه ئې چه په ژبه راځی همغه وائی، او د چټی(بيکاره) خبرو له ويلو څخه خوله نه نيسی او هر څه ئې چه په زړه ګرځی، او له خولې ئې وځی همغه کوی او وائی ئې.

هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٥٦﴾

هم دغه (الله) ژوندی کول او مړه کول کوی او هم ده ته بیا بیولی کیږئ (په قیامت کښې لپاره د جزا)

**تفسیر:** کله چه ژوندی کول او مړه کول د الله تعالیٰ فعل او کار دی، نو د دوهم ځلی ژوندی کول به ورته څه اشکال وی؟

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَتْكُمْ مَّوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَشِفَآءٌ لِّمَا فِي الصُّدُوْرِ ۙ وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٥٧﴾

ای خلقو! په تحقیق راغلی ده تاسی ته موعظه (پند) له جانبه د رب ستاسی او شفاء(دارو) دپاره د هغو (تولو روحانی امراضو (چه دی په سینو (د خلقو کښې د جهالت) او هدایت او رحمت دی دپاره د مؤمنینو.

**تفسیر:** دغه گرد(تول) د قرآن کریم صفات دی. «قرآن عظیم له اوله تر اخره پوری داسی پند دی چه خلق له مضرو او مهلکو خبرو ځنی ژغوری (بچ کوی) د زړونو د روحانی رنځوری لپاره د شفاء نسخه ده د وصول‌الی‌الله او د الله تعالیٰ د رضاء لپاره ښوونکی دی. او خپل قبلوونکی په دنیا او آخرت کښې د الله تعالیٰ د رحمت وړ(لائق) او مستحق گرځوی، د ځینو محققینو په نزد په دغه آیت کښې د انسانی نفس د کمال مرتبو ته اشاره ده یعنی هر هغه سړی چه قرآن کریم خپل تمسک وگرځوی، په دغو گردو(تولو) مراتبو باندی کامیاب کیدی شی:

(١) خپل ځان د نالایقو افعالو څخه د پاکولو په لوری د «موعظة» په لفظ کښې اشاره ده

(٢) خپل باطن د فاسدهؤ عقائدو او ردیه ؤ ملکاتو څخه تش کول له شفاء لما فی الصدور څخه مفهومیږی.

(٣) خپل نفس په حقه ؤ عقائدو او فاضله ؤ اخلاقو سره ښایسته کول چه د هغه لپاره د «هدی» لفظ زیات مناسب دی.

(٤) د ظاهرو او باطنو د سازولو څخه وروسته د الله تعالیٰ د رحمت انوار پر نفس فایز کیدل چه د «رحمة» د لفظ مدلول دی. زمونږ د امام فخرالدین رازی علیه رحمة الله الباری له تقریره له دغو څلورو واړو لفظونو څخه شریعت، طریقت، حقیقت او نبوت او خلافت علی‌الترتیب څرگندیږی. چه دلته د هغه د تفصیل لیکلو موقع نه ده. او نه دا قسم مضامین د خالص تفسیر په مد کښې راتلی شی.

قُلْ بِفَضْلِ اللّٰهِ وَبِرَحْمَتِهٖ فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴿٥٨﴾

ووايه (اى محمده ! مؤمنانو ته چه خوشحاله اوسئ) په فضل (قرآن) د الله سره او په رحمت (دين) د الله سره نو په هم دغه (فضل او رحمت) دى خوشحاله شي مؤمنان، (ځکه چه) دغه (فضل او رحمت) ډير غوره دى له هغو مالونو چه جمع كوى (ئى) دوى.

**تفسير:** يعني ووايه اى محمده ! مؤمنانو ته چه خوشاله اوسئ په هغه فضل د الله تعالىٰ سره چه په تاسي دى چه هغه قرآن كريم يا معرفه يا خلود دى يا لقاء او رضاء د الله تعالىٰ ده او په رحمت او مهرباني د الله تعالىٰ سره چه پر تاسي دى، او هغه رحمت محمد رسول الله يا توفيق يا عصمت يا نجات دى پس په دى رالېږلى.شوى ښائى چه خوشاله دى شي دوى ځکه چه دا مذكور ډير غوره دى له هغو فانيه ؤ اموالو څخه چه جمع كوى ئى دوى ځکه چه دنيوى مال او متاع لره هيڅ بقاء او وفا نشته). «فرح» خوښيدل هم محمود دى او هم مذموم. پر كوم نعمت له دى حيثيته خوښيدل چه د الله تعالىٰ په فضل او مرحمت سره ئى ومومي محمود دى. لکه چه دلته فرمائى ﴿ فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا ﴾ او پر دنيوى حطامو او اموالو خوښيدل او پرى تفخر او ځان لويول خصوصاً دغسى خيال لرل چه ماته دغه مقام په خپل لياقت راحاصل شوى دى ډير بد او مذموم دى قارون د خپل مال او دولت په نسبت ويلى ؤ ﴿ اِنَّمَآ اُوْتِيْتُهٗ عَلٰى عِلْمٍ عِنْدِيْ ﴾ د هغه په نسبت ئى فرمايلى دى ﴿ لَا تَفْرَحْ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْفَرِحِيْنَ وَابْتَغِ فِيْمَآ اٰتٰىكَ اللّٰهُ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ وَلَا تَنْسَ نَصِيْبَكَ مِنَ الدُّنْيَا ﴾ الآية - (نو بائده ده چه خوشاله دى شي مؤمنان په دى ځکه چه دغه مذكوره شيان چه قرآن عظيم الشان او اسلام او نور مقدسات دى ډير غوره او خير دى له هغو اموالو چه دوى ئى تولوى) يعني اصلي څيز د الله تعالىٰ فضل او رحمت دى. ښائى چه تل هغه ولټوى، مال او دولت جاه او حشم او نور ګرد(تول) د هغه په مقابل كښې هيڅ دى.

قُلْ اَرَءَيْتُمْ مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ لَكُمْ مِّنْ رِّزْقٍ فَجَعَلْتُمْ مِّنْهُ حَرَامًا وَّحَلٰلًا ۭ قُلْ آٰللّٰهُ اَذِنَ لَكُمْ اَمْ عَلَى اللّٰهِ تَفْتَرُوْنَ ﴿٥٩﴾

ووايه آيا وينئ تاسي (يعني خبر راكړئ ماته د) هغه څيز چه نازل كړى دى الله تاسو ته له (انواعو د) رزق څخه نو ګرځولي دى تاسي له دغه رزق څخه (ځيني) حرام او (ځيني) حلال، ووايه (اى محمده ! دوى ته) آيا الله اذن كړى دى تاسي ته (په دغه تحليل او تحريم كښې نه) بلكه په الله پورى دروغ

ترئ تاسي (له ځانه).

**تفسير:** يعني پاک قرآن چه د نصيحت، شفاء او هدايت او رحمت په صورت رانازل شوی دی همغه د استناد او تمسک کولو وړ(مستحق) او لايق دی. د الله تعالیٰ د احکامو معرفت او د حلالو او حرامو تميز په هم دغه سره کيدی شی، دغه بابيزه (خوشی) خبری او واهيات دی چه الله تعالیٰ ستاسی د انتفاع لپاره هر قسم روزی پيدا کړی ده، بيا تاسی تش پخپلو آراؤ او اهواؤ چه په هغو کښی يو شی حلال او بل شی حرام دروی. آيا تاسی د دی خبری څه حق لرئ چه پخپل سر او له خپله ځانه د تحليلولو او تحريمولو په نسبت فيصلی کوئ؟ آيا تاسی د داسی خبرو کولو جرائت کولی شئ چه الله تعالیٰ داسی حکم مونږ ته راکړی دی؟ يا هم داسی له خپله ځانه پر الله تعالیٰ دروغ ترئ؟ په وروستنی آيت کښی ئی په صاف ډول(طريقه) سره اشاره فرمايلی ده چه دغه پرته(علاوه) له افتراء علیالله بل هيڅ شی نه دی.

**تنبيه:** د هغو شيانو مفصله تذکره چه دوی هغه په خپل سر حلال او حرام درولی وو د «المائدی» او د «الانعام» په سورتونو کښی تير شوی دی.

وَمَا ظَنُّ الَّذِيْنَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَشْكُرُوْنَ ۝۶۰ۧ

او څه شی دی گمان د هغو کسانو چه له ځانه تړی پر الله باندی دروغ په ورځ د قيامت کښی (چه څه به ورسره وکړی الله)، بيشکه الله خامخا څښتن (خاوند) د فضل دی پر خلقو (په ارسال د رسلو او انزال د کتابونو او تاخير د عذاب)، وليکن اکثره خلق نه وباسی شکر (په دغو نعماؤ)

**تفسير:** يعني دا خلق د قيامت په نسبت څه خيال کوی؟ چه له دوی سره به څه قسم معامله کيږی په سختی سره به ونيول شی؟ که ورو به خوشی کړل شی؟ عذاب او ربړ(تکليف) نه به وګالی(برداشت کړی)؟ که نه؟ په څه څه خيالاتو کښی ډوب تللی دی؟ ښائی چه دوی دغه خبره ښه په ياد ولری، هر هغه سزا چه دوی ته ورکوله کيږی، هغه خامخا دوی ته رسيدونکی ده او له سره هغه بيرته کيدونکی نه ده (بيشکه چه الله تعالیٰ خامخا څښتن(مالک) د فضل دی پر خلقو په ارسال د رسولانو او انزال د کتابونو او تاخير د عذابونو وليکن زيات د خلائقو نه وباسی شکر په دغو نعماؤ او له زړه ايمان نه راوړی). يعني الله تعالیٰ پخپل فضل سره خلقو ته په دنيا کښی ډير مهلت ورکوی. او له ډيرو تقصيراتو څخه ئی تيريږی. ليکن ډير خلق د الله تعالیٰ د دغه اغماض او تلطيف په مقابل کښی د شکر ايستلو او متنبه کيدلو په ځای لا زيات زړور(دلير)

او بی خوفه کیږی بالاخر دوی بیخی د سزا ورکولو وړ(لائق) او مستحق گرځی.
پاک الله دیر له هر چا سره الطاف او مواساء کړی
که له حده بنده تیر شی نو ئی خوار سپک رسوا کړی.

---

وَمَا تَكُونُ فِي شَأْنٍ وَمَا تَتْلُوا مِنْهُ مِنْ
قُرْآنٍ وَلَا تَعْمَلُونَ مِنْ عَمَلٍ إِلَّا كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُودًا إِذْ تُفِيضُونَ
فِيهِ ۚ وَمَا يَعْزُبُ عَنْ رَبِّكَ مِنْ مِثْقَالِ ذَرَّةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا
فِي السَّمَاءِ وَلَا أَصْغَرَ مِنْ ذَٰلِكَ وَلَا أَكْبَرَ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ ﴿٦١﴾

---

او نه ئې ته (مشغول) په کوم کار کېښی (له خپلو کارونو) او نه لولی ته (هیڅ آیت، سورت) له دی نه (یعنی) له قرآنه او نه کوئ (ای انسانانو کوم کار) له کارونو څخه مگر اوسو موږ پر تاسی شاهدان (ساتونکی) کله چه مصروف (بوخت) اوسیږئ تاسی په هغه کېښی! او نه غائب کیږی له ربه ستا په اندازه د یوی ذری (واړه میږی یا پوټی د گرد نه) په ځمکه کښی او نه په آسمانونو کښی او نشته ډیره وړوکی له دغی ذری څخه او نه ډیر غټ (له دی نه) مگر (دا ټول لیکلی پراته دی) په کتاب واضح (ښکاره په لوح محفوظ) کښی

---

**تفسیر:** پخوا له دی نه د قرآن کریم د اوصافو بیان ؤ چه هغه له ابتداء څخه تر انتهاء پوری ځلیدونکی نور او رڼا(رنړا) هدایت د قلوبو شفاء، عظمیٰ نعمت، کبریٰ رحمت دی. بیا ئې اشاره وفرمایله چه د هدایت او بصیرت د دغسی صافی رڼا(رنړا) څخه سترگی پټول، او د خپلو اوهامو او خیالاتو په تیارو کښی د خلقو بی لاری تلل او پاک الله باندی افتراء تړل. او د الله تعالیٰ د فضل او انعام بی قدری او ناشکری کول څومره خراب او نامناسب کار دی. په دغه آیت کښی ډغه تنبیه هم شته چه خلق په څه حال او کار کښی دی؟ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم څه شان دی؟ رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دی شپه او ورځ د حقیقی مالک د وفاداری او خلائقو د همدردی د هغو عظیمو شیونو مظهر چه کیږی بالخاصه د دوی هغه امتیازی شان چی د پاک قرآن د لوستلو او لولولو په وخت کښی ظاهریږی یعنی د پاک قرآن په وسیله هغه جهاد چه دوی یی کوی هغه ټول په الله تعالیٰ په حضور کښی دی او خلق هغه ښی یا بدی معاملی چه کوی هغه هم ټولی د الله تعالیٰ په حضور کښی ظاهری پرتی دی هر کله چه کوم مخلوق په کوم کار کښی

لاس پورې کوی او په هغه کښې مشغول او لګیا کیږی اګر که د دوی په فکر او خیال د پاک الله فکر او تصور هم تیر نشی لیکن الله تعالیٰ یی له ابتدا څخه تر انتها پورې ګوری (فان لم تکن تراه فانه یراک) په زمکه او آسمان هر څیزی چه د یوی ذری په اندازه یا له هغه څخه وړوکی یا لوی کوم شی هم وی هغه تول د الله تعالیٰ په علم محیط کښې شته او له سره تری نه غائبیږی بلکه د الله تعالیٰ د علمه راښکته هم د تول (ما کان وما یکون) حال په کتاب مبین یعنی لوح محفوظ کښې ثبت دی چه هغه د تدبیر په عالم کښې ښایی د الله تعالیٰ د علم صفحه وویلی شی کله چه له الله تعالیٰ نه هیڅ له ادنیٰ څخه ادنیٰ خبره پته نه ده نو د دغه مکذبینو او معاندینو معاملات او احوال څرنګه پټ پاتی کیدی شی بیا د جزا د ورځی د کاروائی په نسبت څه خیال کوی؟ دوی دی ښه وپوهیږی چه د دوی هر وړوکی او لوی حرکت د پاک الله په علم کښې پروت دی هلته هیڅ یو خیانت او غله نشی چلیدی د هر عمل جزا به خامخا ورکولی کیږی هم هغسی چه د دښمنانو تولی معاملی دده په حضور وی بالمقابل د دوستانو په ډیرو وړو وړو معاملو او چارو باندی هم علیم او خبیر دی

اوس الله تعالیٰ په دغه راتلونکی آیت کښې خپلو دوستانو ته دغه زیری آوروی

---

**أَلَآ إِنَّ أَوۡلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ﴿٦٢﴾**

---

واورئ خبردار شئ چه بیشکه دوستان د الله نیشته هیڅ قسم یره په دوی (له کوم مکروه) او نه به دوی خفه کیږی (هیڅری له فوت د کوم مامول نه)

---

**تفسیر:** ابن کثیر رحمة الله علیه د حدیثیه ؤ روایاتو په بنا دغه مطلب بیان کړی دی چه اولیاءالله(د الله دوستانو) ته به په آخرت کښې د محشر د اهوالو او یرو څخه هیڅ خوف او یره نه وی او نه د دنیا د پریښودلو څخه دوی خفه کیږی څنی مفسرینو دغه آیت عام ایښی دی یعنی په هغو به د اندیښنی او د پریشانی او د حوادثو وقوع په دنیا کښې او نه په آخرت کښې وی او نه د کوم مصلوب فوتیدلو څخه به مغموم او متاثر کیږی ګواکی د خوفه د الله خوف یا له غمه د آخرت د غم نفی مراده نه ده بلکه په دنیا کښې د دنیاوی خوف او غم نفی مراده ده چه د هغی احتمال د أعداؤ او د نورو په مخالفت باندی کیدی شی چه هغه به کاملینو مؤمنینو ته له سره نه پیښیږی او دوی به هر وخت په پاک الله اعتماد او اطمینان لری او د تولو تکوینیه ؤ واقعاتو په نسبت داسی اعتقاد لری چه هغه خامخا په یو حکمت او مصلحت مبنی وی نو دغه اعتماد او اعتقاد له استحضاره دوی ته خوف او غم او هیڅ تکلیف نه رسوی زما په نزد «لا خوف علیهم ولا هم یحزنون» مطلب دی داسی واخیست شی چه په اولیاءالله هیڅ یو خوفناک شی(هلاکت یا معتدبه نقصان) په دنیا او آخرت کښې واقع کیدونکی نه دی فرض یی کړئ که په دنیا کښې صورتاً کوم نقصان هم وریپیښ شی مګر څرنګه چه د نتیجی له مخی هغه د ده په

حق کښې د عظيمې نفعې ذريعه ګرځي نو ځکه هغه ته معتدبه نقصان نشي رسيدلى پاتې شو د
کوم دنياوي يا اخروي وجوهو له املهٔ(وجې) دوى ته په کوم وخت د خوف او يرې لاحق کيدل
نو هغه به ددى آيت د تقريره سره څه منافات نه لري ځکه چه دا آيت يواځې دغه خبر راکړى
دى چې په دوى به کوم خوفناک شى نه لويږي دا يې نه دى ويلي چه هغو ته به په هيڅ وخت
کښې خوف او يره نه لاحقه کيږي. ښائي د لايحزنون په مناسب د لا يخافون نه فرمايل او د لا
خوف عليهم تعبير په اختيارولو کښې هم دغه نقطه وى باقي د لايحزنون تعلق زما په خيال د
مستقبل سره دى يعنې د مرګ په وخت کښې او د مرګ څخه وروستو به دوى نه غمجن کيږي
لکه چه فرمايلي دى ﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةُ اَلَّا تَخَافُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَبْشِرُوْا بِالْجَنَّةِ الَّتِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ﴾
۲٤ جزء د حمٓ السجده ۳۰ آيت ٤ رکوع او فرمايلي دى ﴿ لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْاَكْبَرُ وَتَتَلَقّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ هٰذَا يَوْمُكُمُ
الَّذِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ﴾ ۱۷ جزء د الانبياء ۱۰۳ آيت ۷ رکوع والله تعالىٰ اعلم بمراده.

---

## الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴿۶۳﴾

(دغه دوستان) هغه کسان دى چه ايمان لري او وى دوى چه ځان ساتى (له معاصيو او يريږى له الله نه)

---

**تفسير:** دا د اولياءالله تعريف فرمائى يعنې متقي مومن د الله تعالىٰ ولي دى پخوا له دى نه په څو ځايونو کښې معلوم شوى دى چه د ايمان او تقوىٰ ډير مدارج دى نو د ايمان او تقوىٰ هره درجه چه په هر چا کښې موجوده وى په هغې درجې به د ولايت يوه برخه ورثابتيږي مثلاً لس شل او سل روپې هم مال دى او پنځه سوه او زر، پنځوس زره، يو لک، يو مليون هم مال دى ليکن په عام عرف کښې د لس او شل او سل روپې لرونکى مالک ته شته من او مالدار نه وئيل کيږى تر څو چې معتدبه د مال او دولت مقدار د چا سره نه وى هم داسې وپوهيږئ چه ايمان او تقوىٰ هم په هره مرتبه کښې چه وى هغه د ولايت يوه شعبه ده او په دى حيثيت ټولو مومنانو ته فى الجمله ولي وئيل کيدى شي ليکن په عرف کښې ولي هغه ته وئيلې شي چه پکښې د ايمان او تقوىٰ يوه خاصه درجه وموندلى شي په حديثو کښې د ولايت څه علامات او آثار ذکر شوى دى مثلاً د هغو د ليدلو څخه د پاک الله ذکر په ياد راشي يا له خلق الله سره به دوى بى لوثه محبت او مينه ولري عارفينو هر يو سم د خپله مذاقه سره د ولي تعريفونه کړى دى چه د هغو د تفصيل ليکلو ځاى دلته نشته

---

## لَهُمُ الْبُشْرٰى فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْاٰخِرَةِ ؕ

لَا تَبْدِيلَ لِكَلِمٰتِ اللهِ ۚ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿٦٤﴾

دوی ته زیری په دغه ژوندن لږ خسیس کښې او په آخرت کښې، نشته هیڅ بدلول د کلماتو د الله (تعالیٰ) ته، دغه (زیری د دواړو جهانو) هم دغه دی بری ډیر لوی.

**تفسیر:** (یعنی هغه کسان چه دوستان د رحمان دی په دواړو جهانو کښې خوښ او فرحان دی، او دوی ته بشارت دی په دنیا کښې په قرآن په ژبه د رسول علیه السلام په صالحه رؤیا په مکاشفات په لسان د ملائکو په وقت د مرګ او په آخرت کښې چه ملائک به ورته راځي او سلام به پرې آچوی او مبارکی د فوز او د کرامت به ورته ورکوی، نشته هیڅ بدلول د کلماتو د الله ته یعنی هیڅ خلاف نشته په وعده د ده کښې دغه بشارت د دواړو دارینو بری دی لوی او له ادراکه زښته پورته هو!) اولیاؤ ته په دنیا کښې څو ډوله(قسمه) بشارات دی مثلاً حق تعالیٰ هغو ته د انبیاؤ علیهم السلام په ژبه د «ولاخوف علیهم» او نورو زیری ورکړی دی یا به پرښتې د موت په قریبیدلو هغو ته وائی ﴿ وَاَبْشِرُوْا بِالْجَنَّةِ الَّتِیْ کُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ﴾ (٢٤ جزء د حٰم السجده (٣٠) آیة (٤) رکوع) یا به ډیر ښتین او مبارک خوبونه وینی یا د هغو په نسبت به د الله تعالیٰ نور بندګان له ښه خوبونه ورته وینی چه د صحیح حدیث سره موافق د شپږ څلویښتمی اجزاؤ څخه یو جزء دی یا د دوی په معاملاتو کښې د الله تعالیٰ له لوری به یو خاص قسم تائید او امداد کیږی یا په خواصو کښې، او کله له خواصو څخنې تجاوز کوی په عوامو کښې هم ده ته مقبولیت حاصلیږی، او خلق الله د ده مدح او ثناء او د خیر ذکر او ستاینه (صفت) کوی دغه ګرد(تول) شیان تر دنیوی بشاراتو لاندی درجه په درجه راتلی شی مګر په اکثریه ؤ روایاتو کښې د ﴿ لَهُمُ الْبُشْرٰی فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا ﴾ تفسیر په صالحه ؤ رؤیاؤ سره کړی شوی دی. والله اعلم. پاتی شول اخروی بشارات هغه پخپله په پاک قرآن کښې منصوص دی. ﴿ بُشْرٰىكُمُ الْیَوْمَ جَنّٰتٌ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ﴾ او په حدیث کښې هم دغه تفسیر منقول دی.

(او دغه زیری د دواړو جهانو هم دغه دی بری ډیر لوی) یعنی د الله تعالیٰ خبری او د هغه وعدی ګردی(تولی) پخی او کلکی دی. هغه زیری او بشارات ئی چه راکړی دی هغه ضرور بالضرور کیدونکی دی.

وَلَا یَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ ۘ اِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِیْعًا ۚ هُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ﴿٦٥﴾

او نه دی خفه کوی تا (ای محمده!) خبری د دوی (چه الله نه منی ستا تکذیب کوی او ډاروی دی) بیشکه چه زور خاص الله لره دی تول، هم دی دی ښه آوریدونکی (د ګردو(تولو) اقوالو) ښه خبردار (په تولو احوالو)

**تفسير:** له پاسه د مكذبينو اعداؤ ذكر كيده بالمقابل ئى د مصدقينو احباؤ تذكره فرمائى او د دوى د دواړو دارينو د محفوظيت بشارت آوروى. په دغى سلسلى كښى رسول الله ته هم تسلى وركوى، چه تاسى د احمقانو او شريرانو له خبرو څخه مه خفه كيږئ! ګرد(تول) زور، او غلبه د الله تعالىٰ په قدرت كښى ده. الله جل جلاله به په خپل زور او تائيد سره حق غالب او منصور او مخالفين به ذليل او رسوا كرى، الله جل وعلىٰ شانه د دوى خبرى ښى آورى او په ګردو(تولو) حالاتو ښه خبردار دى.

اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ ؕ وَمَا يَتَّبِعُ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ شُرَكَآءَ ؕ اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَاِنْ هُمْ اِلَّا يَخْرُصُوْنَ ﴿۶۶﴾

واورئ خبردار شئ چه بيشكه خاص الله لره دى هر هغه څوک چه په آسمانونو كښى دى (لكه پرښتى) او هغه څوک چه په ځمكه كښى دى (لكه انسانان، پيريان سره له آسمانونو او ځمكى ملكاً خلقاً او عبيداً) او نه كوى متابعت هغه كسان چه بولى (عبادت كوى) دوى غير الله د هغو شريكه نو (چه په واقع كښى شريكان نه دى له الله سره)، متابعت نه كوى دوى د (هيڅ شى) مګر د ګمان (خپل چه دا بتان شريكان دى د الله) او نه دى دوى مګر دروغ وائى (اټكلونه چلوى په دى نسبت د شرک كښى).

**تفسير:** يعنى په ګردو(تولو) آسمانونو او ځمكو كښى د واحد احد الله سلطنت دى. ګرد(تول) انس او جن او ملک د الله تعالىٰ مملوک او مخلوق دى د مشركانو دغه غير الله بلل او دوى د خدائى حصه دار ګرځول. يوائځى په توره تياره كښى غشى وهل او واهى، تباهى خيالات دى د دوى په لاسونو كښى نه كوم حقيقت شته او نه څه حجت او برهان. تش د اوهامو او ظنونو په تيارو كښى خپل سرونه او پښى ژوبلوى.

هُوَ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ لِتَسْكُنُوْا فِيْهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّسْمَعُوْنَ ﴿۶۷﴾

الله همغه ذات دى چه ګرځولى ئى ده تاسى ته شپه (تياره) دپاره د دى چه

آرام شئ تاسی په دی کښی او (ګرځولی ئی ده) ورځ ښوونکی (روښانه)، بیشکه په دغه (ظلمت او نور) کښی خامخا ډیر دلایل (د قدرت او وحدانیت) دی دپاره د قوم چه آوری دغه قرآن (په غوږونو د زړه).

**تفسیر:** د شپی او د ورځی او د نور او ظلمت پیدا کوونکی همغه یو الله دی. خیر او شر او د ګردو(تولو) متقابلو اشیاؤ خالق هم دی دی. په دغه سره د مجوسو دغه عقیده تردیده شوه او په دی لوری هم یوه لطیفه اشاره وشوه، همغسی چه د شپی له تیارو څخه وروسته پاک الله روښانه ورځ راولی او د لمر په رڼا(رڼرا) کښی ګرد(تول) هغه شیان صاف په نظر راځی چه د شپی په تیاره کښی نه ښکاریده، هم داسی د مشرکینو د اوهامو او د ظنونو د پردی لری کیدلو څخه وروسته د قرآن کریم د لمر رڼا(رڼرا) وځلیږی چه خلقو ته د وصول‌الی‌الله پوره سمه لیاره ښوونکی دی.

قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا سُبۡحٰنَهٗ ؕ هُوَ الۡغَنِیُّ ؕ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الۡاَرۡضِ ؕ اِنۡ عِنۡدَكُمۡ مِّنۡ سُلۡطٰنٍۭ بِهٰذَا ؕ اَتَقُوۡلُوۡنَ عَلَی اللّٰهِ مَا لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۶۸﴾

وائی کفار نیولی دی الله ولد (ځوی لور، نو فرمائی الله په رد د دوی کښی) پاک دی الله (په پاکی)، هم دی غنی (بی پروا دی) خاص ده لره دی هر هغه څه چه په آسمانونو کښی دی او هر هغه څه چه په ځمکی کښی دی (سره له آسمانونو او ځمکو، ملکاً خلقاً و عبیداً) نشته تاسی څخه هیڅ برهان حجت سند په دی (چه الله تعالیٰ ولد نیولی دی)، آیا وایئ تاسی پر الله هغه خبری چه نه پوهیږئ تاسی (پری)

**تفسیر:** په دغه کښی د عیسائیانو د شرک تردید دی چه حضرت مسیح علیه السلام ئی د الله تعالیٰ ځوی تاکلی (مقرر کړی) ؤ. دغه خبره د پوهیدلو وړ(لائق) ده، که دوی په واقعی ډول(طریقه) «مسیح» معاذالله صلبی ځوی وګڼی، نو له دی نه لویه ګستاخی او سپین سترګی او کفر به څه وی؟ الله قدوس بالبداهه له ښځی او اولاد څخه پاک او منزه دی. که له ځوی څخه مراد متبنی وی، نو پاک الله دغه ته څه ضرورت لری چه یو مخلوق خپل متبنی وګرځوی؟ آیا معاذ الله له ده سره د اولاد حسرت او د ځوی د نشتوالی څه غم وو؟ یا دغه فکر ورسره وو چه وروسته له دی نه معاذ الله د ده د مال او دولت وارث او د ده د نامه روښانه ساتونکی به څوک اوسی! یا دا چه د زوړتوب او حرج په وقت کښی ورته تکیه او د مرستی(مدد) وسیله وی. العیاذ بالله، دی خو له دغو ګردو(تولو) شیانو څخه بی نیازه او بی‌پروا دی. او نور تول خلق په هر وقت او هر

ځای کېښي ده ته محتاج دی. دی به ځوی، لمسی، متبنی(ځوی نیوی) او نورو ته څرنګه احتیاج او اړتیا (مجبوری) ولری. ګرد(تول) شیان د الله تعالیٰ مخلوق او مملوک دی. نو بیا د مالک او مملوک او خالق او مخلوق په منځ کښې د داسی نسبی علائقو ګنجایش او ځائیدل له کومه کیږی؟ دا لویه سخته خبره ده چه د الله تعالیٰ په نسبت محض له جهالته داسی دروغ او بی سنده خبری وویلی شی.

---

قُلْ إِنَّ الَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ لَا يُفْلِحُونَ ﴿٦٩﴾ مَتَاعٌ فِي الدُّنْيَا ثُمَّ إِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ نُذِيقُهُمُ الْعَذَابَ الشَّدِيدَ بِمَا كَانُوا يَكْفُرُونَ ﴿٧٠﴾

---

ووایه (ای محمده ! دوی ته) بیشکه هغه کسان چه له خپله ځانه تړی پر الله دروغ (په نسبت د ولد او شریک سره) خلاص به نشی (له عذابه او په مراد به ونه رسیږی). نفع آخیستل دی په دنیا کښې بیا مونږ ته راتله د دوی دی (پس له مرګه) بیا به وروڅکوو مونږ دوی ته عذاب سخت په سبب د دی چه وو دوی چه کافران کیدل (په الله او په رسول الله).

---

**تفسیر:** یعنی پر الله تعالیٰ دروغ تړونکی اګر که د ډیر دنیوی قوت او قدرت خاوندان او په خپلو اسبابو، سامانو او وسائلو مغرور هم وی، لیکن ده ته حقیقی نیکی او بری له سره په برخه کیدی نشی. البته د لږو ورځو له مخی به په دنیا کښې مزی کوی او بالاخر ئی د پاک الله په لوری رجوع ده، چه هلته به د خپلو جرائمو په بدل کښې د نهایت سخت عذاب خوند وڅکی.

---

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ نُوحٍ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ يَا قَوْمِ إِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكُمْ مَقَامِي وَتَذْكِيرِي بِآيَاتِ اللَّهِ فَعَلَى اللَّهِ تَوَكَّلْتُ فَأَجْمِعُوا أَمْرَكُمْ وَشُرَكَاءَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُنْ أَمْرُكُمْ عَلَيْكُمْ غُمَّةً ثُمَّ اقْضُوا إِلَيَّ وَلَا تُنْظِرُونِ ﴿٧١﴾

---

او ولوله (ای محمده !) پر دوی حال د نوح کله چه وویل (نوح) قوم خپل ته چه ای قومه زما که چیری وی سخت پر تاسی اوسیدل زما (ډیر وقت په تاسی

کښې) او پند درکول زما (تاسې ته ) په آيتونو د الله (او بې موجبه مې آزاروئ) نو خاص په الله باندې توکل کړی دی ما نو راغونډ (او کلک) کړئ تاسې کار خپل او (راټول کړئ) شريکان خپل بيا دې نه وی کار ستاسې په تاسې باندې پټ (يعنې ټول ښکاره راپسې ملا وتړئ) بيا راورسوئ ماته هر قسم ضرر او مهلت مه راکوئ ماته (هيڅ قدر څو خلاص شی زما دغه اقامت او ستاسې دغه محنت)

**تفسير:** يعنې ای محمده اهل د مکې معظمې ته د نوح عليه السلام او د ده د قوم حال واوروه! چه ورمعلوم شی چه مکذبينو او مفترينو ته حقيقی بری او فتحه نشی حاصليدی او د دوی مندی او ښائست او سينګار يوائې د څو ورځو له مخې وی. او په پای (انجام) کښې په ابدی هلاک باندې منتهی کيږی د مکې معظمې هستيدونکو ته ښائې چه د نوح عليه السلام د قوم قصه واوروی څو تری عبرت حاصل کړی. که دوی د خاتم الانبياء صلی الله عليه وسلم پر تکذيب او عداوت هم داسې ملا تړلې وی او له خپلو شرکياتو څخنې لاس نه اخلی، نو د دوی انجام به هم همغسې کيدی شی چه د نوح عليه السلام د تکذيب کوونکو وشو. او هم د دې واقعې له بيانولو څخه د نبی عليه السلام تسلی ورکول دی چه تاسې د خلقو د دښمنی او شرارت څخه دومره زيات خفه او متاثر مه کيږئ، ځکه چه هر نبی ته داسې حوادث ور د مخه شوی او تولو د هم دی قسمو حالاتو مقابله فرمايلې ده. مګر په آخر کښې فقط حق غالب شوی دی. او د حق او صداقت دښمنان تباه او برباد شوی دی. او نورو عامو سامعينو ته د دغو واقعاتو د داسې مفصل بيان څخه ښائی دغه خبره ورزده کړی چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم سره له امی‌توبه او د هيڅ يوه مخلوق په مخکښې د يوی دقيقې له مخې هم شاګردی نه کولو، د پخوانيو اقوامو دومره صحيح او پاخه احوال بيان فرمائی چه ظاهراً بې له تعليمه او طويلې استفادی هغسې وينا ممکنه نه ده. نو ناچاره دغه خبره منله کيږی چه د ده معلم او ښوونکی هيڅ يو انسان نه دی، بلکه هغه پاک الله ئې ښوونکی دی چه د ګردو(ټولو) علومو، فنونو او انسانانو او موجوداتو خالق او موجد دی. او دغه ئې د صداقت يو بل لوی دليل دی.

﴿ إِذْقَالَ لِقَوْمِهِ ﴾ الآية ـ کله چه ووېل ده مشرانو د قوم خپل ته چه ای قومه زما که چيری وی داسې کار چه ډير لوی او سخت شوی وی پر تاسې اوږدوالی د مدت د اقامت زما په تاسې کښې او دا ځکه چه نهه نيم سوه کاله ئې دوی ته د دين دعوت کړی ؤ، او له دوی څخه ئې ډيری جفا او سختی ليدلې وی، او سخت شوی وی هغه پند چه زه ئې درکوم تاسې ته په ښکاره دلايلو د قدرت د الله تعالیٰ په وحدانيت او په تصديق د نبوت زما او بی موجبه راته آزار رسوئ. پس خاص پر الله تعالیٰ مې توکل کړی دی په دفع د شر ستاسې کښې پس راغونډ او محکم کړئ کار خپل او راګرد (راټول) کړئ مشرکان خپل او هغه شريکان خپل چه تاسې له الله سره مقرر کړی دی يعنې ټول قوت خپل راغونډ کړئ! بيا دې نه وی دا کار ستاسې په باب زما کښې په

تاسي پټ يعني تول راپسې په ښكاره ملا وتړئ! بيا اورسوئ ماته هر قسم ضرر چه ستاسي زړه غواړي، او هيڅ قدر مهلت مه راكوئ ماته!) يعني ستاسي د خوښي او خفگان او د موافقت او مخالفت د يوې ذرې په اندازه هم زه پروا نه لرم. د نورو انبياؤ عليهم السلام په شان زما هيله(اميد) او اسره هم صرف پر الله واحد احد صمد ده. كه تاسي زما په پوهنه او پند نه پوهيږئ، يا ئې نه منئ نو واك(اختيار) لرئ زه خو د خپل منصبي فرض په ادا كولو كښې هيڅ قصور نشم كولى. كه تاسي زما دغه وضعيت بد منئ او دښمني راسره كوئ او نقصان رارسوئ نو دغه شيان قطعاً زما پر دغو ارادو څه اثر نشي غورځولى هر هغه شي چه ستاسي په امكان كښې شته په ډير شوق او مينه سره ئې پر ما اجراء كړئ، زما پر خلاف جرگې او مشورې وكړئ! او كوم تجويز پوخ يا كومه خبره غوته كړئ! د خپل د كار ملگرى، بلكه فرضي معبودان مو هم راټول كړئ او ټول سره لاس او فكر يو كړئ! او پر يوه غير مشكوك او غير مشتبه رأى قائم شئ! بيا په خپلو متفقه ؤ طاقتونو سره هغه راجارى كړئ! او د يوې شيبې مهلت راته مه راكوئ! نو بيا وگورئ چه زما د نبوت د استقامت او د توكل د غره په مقابل كښې د گردى(تولى) دنيا قوتونه او تدبيرونه څرنگه بيكاره او لتاړه او څنگه ئې بخركى په هوا الوځي؟

فَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَمَا سَأَلْتُكُم مِّنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِيَ
إِلَّا عَلَى اللَّهِ ۖ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿٧٢﴾

نو كه وگرځيدئ تاسي (له پنده او وئې نه منئ) پس نه ده غوښتي ما له تاسو څخه هيڅ اجر (مزدورى) نه دى اجر ځما (په دى چه بولم تاسو ايمان ته) مگر پر الله دى او امر (حكم) شوى دى ماته په دى چه اوسم زه له مسلمانانو (راسخو غاړه ايښودونكو څخه الله ته).

**تفسير:** يعني ستاسي په مقابل كښې نه د جاني او بدني تكاليفو څخه ويريږمه او نه د مالي نقصان څه فكر او انديښنه راسره شته زه د تبليغ او د دعوت د خدمت څه معاوضه هم له تاسي څخه نه غواړم چه دغه انديښنه راته پيدا شي چه ستاسي په خفگان به زما تنخا بنده شي. يا كم له كمه تاسي ته به د داسي وينا موقع په لاس درشي چه زما گرد(تول) جداوجهد د مال له حرصه او د پيسو په طمع دى. زما اجرت او مزدورى د هغه لوى ذات په ذمه ده چه زه ئې كار كوم. او احكام ئې په ځاى راوړم. كله چه زه د هغه امر منونكى يم او خپل مفوضه خدمت بى له خوفه او خطره پاى (انجام) ته رسوم، نو څرنگه ممكن دى چه هغه به د خپل فضل او مرحمت ابواب (ورونه) نه راپرانيځي؟

فَكَذَّبُوهُ فَنَجَّيْنَٰهُ وَمَن مَّعَهُۥ فِى ٱلْفُلْكِ وَجَعَلْنَٰهُمْ خَلَٰٓئِفَ وَأَغْرَقْنَا
ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا ۖ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُنذَرِينَ ﴿٧٣﴾

نو نسبت د دروغو وکړ دوی نوح ته پس نجات ورکړ مونږ دغه (نوح) ته او هغه چاته چه وو له ده سره په بیړی کښې (له غرقه) او وګرځول مونږ دوی خلیفګان (د غرق شویو په ځمکی کښې ) او غرق کړل مونږ (په طوفان کښې) هغه کسان چه تکذیب ئی کړی وو د آیتونو زمونږ، نو وګوره چه څرنګه شوه آخره خاتمه د ویرولیو شویو (یعنی هلاک شول).

**تفسیر:** یعنی له هر چا سره چه د عبرت سترګی وی هغه دی وګوری چه د مکذبینو انجام څرنګه شوی ؤ؟ دغو خلقو ته په سلهاؤ کلونو نوح علیه السلام پند ورکړ. او نصیحت ئی وکړ. او له نفعی او ضرر څخه ئی خبردار کړل. کله چه هیڅ یوه خبره ئی مؤثره ونه لویده او قبوله نشوه بلکه بالعکس د دوی ذاتی عناد او فرار لا ورپسی زیات شو. نو دلته د پاک الله له لوری د اوبو سخت طوفان (څپان) ورنازل شو. او په هغه کښې ګرد(تول) مکذبین سره ډوب شول یواځی نوح علیه السلام سره له نورو څو تنو ( چه پر بیړی سواره وو) محفوظ پاتی شول او د انسانانو وروستنی نسل له هم دوی څخنی پاتی شو. او د ډوب شویو خلقو په ځای کښې هم دغه د بیړی سواره مسلمانان ودان شول. د نوح علیه السلام لړ څه قصه د «الاعراف» په سورت کښې هم تیره شوی ده.

ثُمَّ بَعَثْنَا مِنۢ بَعْدِهِۦ رُسُلًا إِلَىٰ قَوْمِهِمْ فَجَآءُوهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ
فَمَا كَانُوا۟ لِيُؤْمِنُوا۟ بِمَا كَذَّبُوا۟ بِهِۦ مِن قَبْلُ ۚ كَذَٰلِكَ نَطْبَعُ عَلَىٰ
قُلُوبِ ٱلْمُعْتَدِينَ ﴿٧٤﴾

بیا لیږلی وو مونږ پس له نوح نور رسولان قوم د هغو ته (لکه هود، صالح، ابراهیم، لوط، شعیب) نو راوړی وو دغو (رسولانو) هغوی ته دلائل ښکاره پس (مستعد) نه وو دوی (دی ته) چه ایمان ئی راوړی وی په هغو (دینیه ؤ اصولو) چه تکذیب ئی کړی وو د هغو (اصولو)) پخوا (له بعثت د رسولانو)، هم داسی (لکه چه مهر مو لګولی ؤ په زړونو د دوی) مهر لګوو مونږ زړونو د تیریدونکو (له شرعی حدودو).

**تفسير:** يعني د نوح عليه السلام څخه وروسته هود، صالح، لوط، ابراهيم، شعيب او نور انبياء عليهم السلام ئې د خپلو اقوامو په لوری سره له ښکاره‌ؤ نښو او دلائلو لیږلی ؤ، لیکن د هغه جهالت او کفر په حالت کښې چه دغه خلق د خپلو انبیاؤ د بعثت څخه پخوا وو. او د هغو شیانو په سبب چه پخوا له دی نه ئې پرله پسی د انبیاؤ تکذیب کړی وو بیا ئې دا توفیق ونه موند چه د نورو انبیاؤ چه د تشریف راوړلو او د دوی د پوهولو څخه وروسته پر حقائقو وپوهیږی او اسلام ومنی بلکه د هغو صحیحه ؤ اصولو تکذیب چه پخوا له دی نه قوم د نوح کړی وو. دوی گردو(تولو) هم د هغو د منلو څخه انکار وکړ. او همغه یوه «نه» چه یو ځلی د ړومبنیو د خولی څخه وتلی وه، ممکن نه ؤ چه بیا د نورو وروستنیو له خولو په «هو!» سره بدله شی. دوی هم په همغی بی ایمانی او تکذیب‌الحق تر آخره پوری کلک ولاړ وو.
هغه کسان چه د حق په تکذیب او عداوت کښې ئې تیری کړی دی، د هغو په زړونو باندی د مهر لگولو هم دغه صورت کیدی شي چه اول تکذیب کوی. بیا پر هغه داسی ضد او اصرار کوی چه محض د دښمنی او عناد رویه ځان ته غوره کړی. تر دی ځایه پوری چه د دوی د زړونو گردی(تولی) قواوی ورانیږی. او د حق د قبول استعداد پکښې بیخی نه پاتی کیږی.

ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ مُّوسٰى وَهٰرُوْنَ إِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَائِهٖ بِاٰيٰتِنَا فَاسْتَكْبَرُوْا وَكَانُوْا قَوْمًا مُّجْرِمِيْنَ ﴿٧٥﴾

بیا ولیږل مونږ وروسته له دغو (رسولانو) څخه موسیٰ او هارون (دواړه ورونه) طرف د فرعون (د مصر) او سردارانو د قوم د ده ته په ښکاره معجزو زمونږ نو تکبر وکړ دوی او وو دوی قوم مجرمان (کافران زړور په گناهونو).

**تفسير:** يعني جرائم کوونکی خلق وو. د نافرمانی خوی (رشه) د حق قبلولو اجازه کله ورکوی؟ تکبر مانع شو چه د الله تعالیٰ دلائل او نښی وکتلی شی. یا د الله تعالیٰ د رسولانو خبرو ته غاړه کیږدی: ﴿ وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنْفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ ﴾
١٩(جزء د النمل ١٤ آیت اوله رکوع) هم دغه تکبر وو چه د فرعون له خولی څخه ئې دغه الفاظ وویستل: ﴿ قَالَ أَلَمْ نُرَبِّكَ فِينَا وَلِيدًا وَلَبِثْتَ فِينَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِينَ ﴾ (١٩ جزء د الشعراء (١٨) آیت (٢) رکوع)

فَلَمَّا جَاءَهُمُ الْحَقُّ مِنْ عِنْدِنَا قَالُوْا إِنَّ هٰذَا لَسِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٧٦﴾

نو کله چه راغی دوی ته حق (رښتیا خبره) له نزده زمونږ نو وویل دوی

بیشکه دا خامخا سحر (کوډی) دی ښکاره.

**تفسیر:** یعنی د «عصا» او د «یدبیضا» (د امسا او د روښانه لاس) او د نورو معجزو د لیدلو او د موسیٰ علیه السلام زښته زیات تاثیردارو خبرو د آوریدلو څخه ئی وویل چه: «دغه ګرد(تول) امور ښکاره جادو دی» څکه چه د ده په خیال کښی د ګردو(تولو) فوق‌العاده شیانو آخری درجه هم دغه جادو کیدی شو.

قَالَ مُوسَىٰٓ أَتَقُولُونَ لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَكُمْ ۖ أَسِحْرٌ هَٰذَا وَلَا يُفْلِحُ ٱلسَّٰحِرُونَ ﴿٧٧﴾

وویل موسیٰ (دغو قائلانو ته) آیا وایئ تاسی دغه حق (رښتینی معجزی) ته کله چه راغله تاسی ته (چه معجزه نه ده سحر دی) آیا سحر دی دا (بلکه نه دی)، حال دا چه نه مومی بری ساحران (له عذاب د نیران)

**تفسیر:** یعنی حق ته جادو وایئ آیا جادو داسی کیدی شی؟ او آیا جادوګر، کوډګر څرنګه د نبوت دعوی کولی شی؟ او د حق او باطل په کشمکش کښی بریالی(کامیاب) کیدی شی؟ د سحر او معجزی په منځ کښی فرق او توپیر (امتیاز) نه کول، د دوی د لندو پوهیدلو کار دی. چه د طلا او سرو زرو او ژیرو په منځ کښی فرق نشی کولی. د نبی روښانه مخ، سوچه اخلاق، د تقویٰ رنا، له شوکته او عظمته ډکو احوالو کښی داسی ښکاره ګواهی موجوده ده، چه کوډګری او شعبده‌بازی له سره له دوی سره هیڅ یو نسبت نه لری. نو بیا نبی‌الله ته «ساحر» ویل په کومی اندازی بیحیائی او لیونتوب دی.

قَالُوٓا۟ أَجِئْتَنَا لِتَلْفِتَنَا عَمَّا وَجَدْنَا عَلَيْهِ ءَابَآءَنَا وَتَكُونَ لَكُمَا ٱلْكِبْرِيَآءُ فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا نَحْنُ لَكُمَا بِمُؤْمِنِينَ ﴿٧٨﴾

وویل فرعونیانو (موسیٰ ته) آیا راغلی ئی ته مونږ ته دپاره د دی چه واړوی مونږ له هغه کاره چه موندلی دی مونږ پری پلرونه خپل او چه شی تاسی دواړو ته غلبه (سلطنت) په ځمکه (د مصر) کښی، او نه یو مونږ ستاسی دواړو (په نبوت) باور کوونکی

**تفسیر:** یعنی معاذ الله ته د دنیا حریص او بدنیت ئی یو سیاسی تحریک په مذهبی رنګ سره وړاندی کوی. ستا مقصد او غرض هم داسی معلومیږی چه له مذهبی حیثیته یو لوی انقلاب جوړ

كړي، او په دغه ملک کښې خپله سرداري او حکومت ټينګ کړي. او د دې ځاى پخواني سرداران (قبطيان) برطرف کړي نو په ياد ئې ولره چه ستا دغه غوښتنه پوره کيدونکي نه ده، مونږ له سره ستا خبره نه منو او نه دې له سره مشرتيا تسليموو.

وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ ٱئۡتُونِي بِكُلِّ سَٰحِرٍ عَلِيمٖ ﴿٧٩﴾

او وويل فرعون (مقربانو خپلو ته چه) راولئ تاسي ماته هر هغه ساحر چه ښه (پوه او) ماهر وي.

**تفسير:** دغه د موسیٰ عليه السلام د تقرير جواب دی يعني پاتي شوه د سحر او د معجزې جګړه د هغې تصفيه هم عملاً کوو چه د دې ملک ډير لوی ماهر کوډګران راټول کړل شي. بيا دغه کوډګران ستا د دغو معجزاتو په مقابل کښې خپلې ننداري درښکاره کړي نو ګرد(ټول) به سره ووينې چه تاسي نبيان يئ؟ که (معاذالله) کوډګران؟ نو ځکه د فرعون په توله پاچاهۍ کښې سرې خواره شول او هر لوري ته نو محصلان لاړل چه ښه پوهان، مشاقان او ماهران کوډګران چه هر چيري ومونډل شي ژر دې راحاضر کړل شي! د دې مفصله واقعه د «الاعراف» په سورت کښې تيره شوې ده هلته دې وکتله شي.

فَلَمَّا جَآءَ ٱلسَّحَرَةُ قَالَ لَهُم مُّوسَىٰٓ أَلۡقُواْ مَآ أَنتُم مُّلۡقُونَ ﴿٨٠﴾

نو کله چه راغلل ساحران (د معارضې ميدان ته) وويل دوی ته موسیٰ چه وغورځوئ هغه څه چه تاسو (ئې) غورځوونکي يئ.

**تفسير:** په بل ځاى کښې مذکور دي چه کوډګرانو له موسیٰ عليه السلام څخه پوښتنه کړې وه چه ته دې خپله ننداره پخوا راښيې؟ که ئې مونږ اول دروښيو؟ د دوی په جواب کښې موسیٰ عليه السلام وفرمايل: «د هر هغه شي ښوونه مو چه په زړه کښې وي، رومبي تاسي هغه راوښيئ!» ځکه چه د باطلو د پوره زور ښوولو څخه د حقو راتلل او د باطلو لاندې غورځول، او مغلوب او مقهور او ويجاړ ښرګندول ئې لا زيات مؤثر او د حق غلبه لا ښه واضح کوي.

فَلَمَّآ أَلۡقَوۡاْ قَالَ مُوسَىٰ مَا جِئۡتُم بِهِ ٱلسِّحۡرُۖ إِنَّ ٱللَّهَ سَيُبۡطِلُهُۥٓۖ
إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُصۡلِحُ عَمَلَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿٨١﴾

نو كله چه وغورځول ساحرانو (پړى او همساګانى خپلى) نو وويل موسىٰ هغه څيز چه راوړى دى تاسو هغه يوازى سحر دى (نه بل شى)، بيشكه چه الله ژر تباه كوى دغه (سحر)، بيشكه چه الله نه جوړوى كار د فساد كوونكو.

**تفسير:** كودګرانو خپل پړى او همساګانى پر ځمكه وغورځولى او په تخيل او نظربندى سره ئى ليدونكو ته داسى ورځرګند(ښكاره) كړل چه ګواكى ګرد(تول) ميدان له ژونديو مارانو، منګورانو څخه ډک دى. نو موسىٰ عليه السلام وويل: «دغه دى جادو، او هغه له سره جادو نه وه چه فرعون او د ده خوشامدګرانو به هغه ته جادو ويل» (بلكه جادو او كوډى هم داسى دى چه تاسو راوړى دى او بل شى نه دى بيشكه چه الله تعالىٰ ژر تباه كوى دغه سحر او بيشكه الله نه جوړوى كار د فساد كوونكو) يعنى بس دى! تاسو خپل ګرد(تول) زور او قوت صرف كړ. اوس خپل ځانونه سنبال كړئ! چه پاک الله به ستاسى دغه له خپله ځانه جوړى كړى لوبى داسى ورانى او خرابى كړى، چه بيا له سره په مقابل كښى نه د هغه بل كوم نظير او مثال او جوړه نشى جوړيدى، ځكه چه د پاک الله د عادت او حكمت څخه دغه خلاف دى چه د مصلح او مفسد د مقابلى په وقت كښى كله چه له هغه څخه مقصود خالص د حجت اتمام وى، چه د مفسدانو او شريرانو خبرو ته څه اثر او قوت وركړى. يا د حق كلمه مغلوبه او ښكته كړى.

وَيُحِقُّ اللّٰهُ الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُوْنَ ﴿٨٢﴾ فَمَآ اٰمَنَ لِمُوْسٰٓى
اِلَّا ذُرِّيَّةٌ مِّنْ قَوْمِهٖ عَلٰى خَوْفٍ مِّنْ فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهِمْ اَنْ يَّفْتِنَهُمْ ؕ
وَاِنَّ فِرْعَوْنَ لَعَالٍ فِى الْاَرْضِ ۚ وَاِنَّهٗ لَمِنَ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿٨٣﴾

او (بيا ژر) رښتيا كوى الله حقه خبره (چه زما راوړى دين دى) په كلماتو (او حكمونو) خپلو سره او اګر كه ئى بد ګڼى مجرمان (كافران) نو ايمان نه ؤ راوړى (ړومبى) په موسىٰ باندى مګر څو اولادو (ځلميانو) له قومه د ده سره د ويرى له فرعونه او له مشرانو د دوى له دى نه چه دوى و(نه) ښوريوى، او بيشكه چه دغه فرعون خامخا جابر متكبر ؤ په ځمكه (د مصر) كښى، او بيشكه چه دى خامخا له حده تيريدونكو څخه ؤ (تر دى حده پورى چه د خدائى دعوى ئى هم وكړه)

**تفسير:** بنى اسرآئيلو د فرعونيانو له لاسه سخت مصيبتونه او ربړونه(تكليفونه)، ذلت او سپكتيا

ګاللی(برداشت کولی) او د همغو پرومبنیو پخوا ویلو سره سم منتظر وو چه د فرعون د مظالمو خاتمه، او د هغه د سلطنت د اساس آړولو لپاره همغه اسرائیلی نبی مبعوث شی. موسیٰ علیه السلام سم په همغه شانی تشریف راوړ چه عام خلق د هغه په انتظار کښی وو. نو ځکه ګرد(تول) «بنی اسرآئیل» په قدرتی دول(طریقه) سره د موسیٰ علیه السلام بعثت یو نعمت عظمی ګانه او د زړه له صدقه ئی موسیٰ رښتینی شماره او د هغه عزت او حرمت ئی په انتهائی درجه سره کاوه مګر دیر سری له فرعونه او له فرعونیانو سردارانو څخنی ویریدل نو له هم دی لامله(له وجی) په ابتداء کښی په شرعیه ؤ اصولو سره ئی ایمان رانه وړ. او وقت او زمان ته ئی منتظر وو. چه هر کله او هر مهال (وخت) چه د حق غلبه وشی، نو ګرد(تول) به سره مسلمانیږی د بنی‌اسرائیلو لږ څه ځلمیانو همت وکړ او د فرعون د خوف او ویری سره ئی د خپل اسلام اظهار او اعلان وکړ. څو شمیرلی او غوره شوی قبطیان هم چه د فرعون له قومه وو، په اسلام مشرف شول. په آخره کښی کله چه د موسیٰ علیه السلام اثر او د حق غلغله لا پورته شوه نو دلته د بنی اسرائیلو ګرد(تول) هغه قومونه سره مسلمانان شول چه نژدی په شپږو لکو بالغو نارینه ؤ پوری رسیدل دلته د هغو د ابتدائی قصی بیان دی.

﴿ عَلٰى خَوۡفٍ مِّنۡ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَاۡئِهِمۡ اَنۡ يَّفۡتِنَهُمۡ ﴾ الآیة - سره د ویری له فرعونه او له مشرانو د دوی له دی نه چه دوی ونه ښویوی او بیشکه چه فرعون خامخا جابر، متکبر ؤ په ځمکه د مصر کښی او بیشکه چه دی خامخا له حده تیریدونکو څخه ؤ تر دی حده چه د خدائی دعوی ئی هم وکړه ) له دغو سردارانو څخه مراد یا خپله د فرعون حکام او عمال دی. یا خو د بنی اسرائیلو هغه سرداران مقصد دی چه د خوف یا طمعی او نورو له سببه خپل قوم او تبر ئی د فرعون د مخالفت څخه ویرول او تخویف ئی کاوه. او ربړولو (تکلیف کولو) څخه مطلب دا دی چه فرعون به د دوی د ایمان راوړلو د خبر آوریدلو څخنی دوی ته سختی ایذاوی او ربړونه (تکلیفونه) ورکول، چه د همغو ربړو (تکلیفونو) له ویری ممکن وو چه ځینی ضعیف‌القلب کسان به د حق له لاری ښوئیدل. (ځکه چه فرعون خامخا جابر متکبر ؤ په ځمکه د مصر کښی او بیشکه چه فرعون خامخا له حده تیریدونکو څخه ؤ تر دی حده پوری چه د خدائی دعوی ئی هم وکره ) یعنی د دوی ویریدل هم دومره بی ځایه نه وو. ځکه چه په هغه وقت کښی په ملک کښی د فرعون مادی قوت، قدرت او طاقت دیر زیات او خورا(دیر) زورور ؤ او د ده ظلم او عدوان، کفر او طغیان له حده متجاوز شوی ؤ او د ده د لاسونه د کمزورانو د ربړولو (ازارولو) او تعذیب لپاره بیخی خلاص او آزاد وو.

وَقَالَ مُوسٰى يٰقَوۡمِ اِنۡ كُنۡتُمۡ اٰمَنۡتُمۡ بِاللّٰهِ فَعَلَيۡهِ تَوَكَّلُوۡۤا اِنۡ كُنۡتُمۡ مُّسۡلِمِيۡنَ ﴿٨٤﴾

او وویل موسیٰ (مؤمنانو د خپل قوم ته کله چه آثار د خوف ښکاره شو) ای قومه ځما که یئ تاسي چه ایمان مو راوړی دی پر الله (چه خیر او شر او نور هر شي د ده په قدرت دی) نو خاص پر هم ده توکل وکړئ که یئ تاسي مسلمانان(حکم منونکی د الله)

**تفسير:** یعنی د خوف او ویری هیڅ ضرورت نشته د یوه فرمان منونکی مؤمن کار دا دی چه د خپل مالک پر قوت معتمد وی. هر هغه څوک چه د پاک الله پر لامحدود قدرت او رحمت متیقن وی دی په هری معاملی کښی یقیناً په الله تعالیٰ اعتماد او توکل کوی. او د دغه اعتماد اظهار هلته کیدی شي چه بنده خپل ځان بیخی پاک الله ته وسپاری او د ده پر حکم رفتار او تګ وکړی. او په ګرد(تول) جداوجهد کښی یواځی په هم ده باندی نظر ولری.

فَقَالُوا عَلَى اللَّهِ تَوَكَّلْنَا رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿٨٥﴾

نو وویل دوی خاص پر الله توکل کړی دی مونږ، ای ربه زمونږه مه ګرځوه مونږ (سبب د) فتنی (ضلالت) دپاره د قوم ظالمانو

**تفسير:** د موسیٰ علیه السلام پر نصیحت دوی د خپل اخلاص اظهار وکړ، او وی ویل چه بیشکه زمونږ توکل او اعتماد خالص پر الله تعالیٰ باندی دی او د همغه له درباره غواړو چه مونږ د دغو ظالمانو له ظلمونو څخه خلاص کړی چه زیات له دی نه مو په عذاب نه کړی. په دغه شانی چه دوی تل پر مونږ خپل زور، طاقت، قوت، او ظلم وچلوی، او زمونږ له لاسه د دوی په مقابل کښی هیڅ شی نه وی پوره په دغه صورت کښی زمونږ دین هم په ویره او خطر کښی دی او دغه ظالمانو او نورو لیدونکو ته د داسی خبرو او لاقو او باتو وهلو موقع هم په لاس راځی چه که مونږ پر حق نه وی روان، نو پر تاسی به ولی د داسی تسلط او تفوق خاوندان اوسیدو؟ او تاسی به ولی دومره ذلیل او ښکته او ناتوانان پاتی کیدئ؟ دغسی چتی(بیکاره) خیالات به دغه ګمراهان لا پسی ګمراه او بی لاری کوی. ګواکی له یوه حیثیته زمونږ وجود به د هغوی لپاره فتنه وګرځی.

وَنَجِّنَا بِرَحْمَتِكَ مِنَ الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ ﴿٨٦﴾

او نجات راکړه مونږ ته په (سبب د) رحمت خپل له قوم کافرانو نه.

**تفسير:** یعنی د دوی له غلامی او محکومی ځنی مونږ ته نجات راکړه! او د آزادی او خپلواکی

او استقلال له دولته مو ماړه او خوشحال کړه!

وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰى وَاَخِيْهِ اَنْ تَبَوَّاٰ لِقَوْمِكُمَا بِمِصْرَ بُيُوْتًا
وَّاجْعَلُوْا بُيُوْتَكُمْ قِبْلَةً وَّاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ ؕ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٨٧﴾

او وحی وکړه مونږ موسیٰ ته او ورور د ده ته داسی چه جوړ(مقرر) کړئ
تاسی د پاره د قوم خپل په مصر کښی کوټی (دپاره د عبادت) او وګرځوئ
کوټی خپلی (مخامخ) قبلی (ته) او سم ودروئ( ادا کوئ) تاسی لمونځ، او
زیری ورکړه (ای موسیٰ) مؤمنانو ته ( دلته په نصرت هلته په جنت)

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب لیکی «کله چه د فرعون د هلاکت وقت نژدی شو، نو حکم وشو چه د بنی‌اسرائیلو قوم دی له هغوی سره ګډ او شامل نشی. او په خپلو محلو کښی دی بیل اوسیږی چه وروسته له دی نه پر دوی آفتونه راتلونکی دی خو په هغه وقت کښی ستاسی قوم په ظاهری دول(طریقه) هم له آفتونو څخه بیخی بیل اوسی» مفسرین له ﴿ اَنْ تَبَوَّاٰ لِقَوْمِكُمَا بِمِصْرَ بُيُوْتًا ﴾ څخه دغه مراد آخیستی دی چه په خپلو کورونو کښی اوسیږئ! او له دغو څخه ځینی کوټی د عبادت لپاره مخصوصی کړئ! (او دا ئی هله وفرمایل چه) فرعون ګرد(تول) مسجدونه او معابد خراب کړی وو. هیڅوک به د باندی وتلی، او عبادت به ئی کولی نشو. نو مجبوراً حکم وشو چه په خپلو کورونو کښی دی داسی ځایونه د لمانځه لپاره تیار کړی چه قبلی ته مخامخ وی. او لمونځ مه پریږدئ چه د همغه په برکت سره مو نصرت په برخه کیږی ﴿ وَاسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ﴾ د هجرت څخه پخوا په مکی معظمی کښی د مسلمانانو حال هم داسی وو. ( ﴿ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ او زیری ورکړه ای موسیٰ مؤمنانو ته) په دنیا کښی د فتح او نصرت او په آخرت کښی په نجات او د الله تعالیٰ په خوښی او رضاء.

وَقَالَ مُوْسٰى رَبَّنَآ اِنَّكَ
اٰتَيْتَ فِرْعَوْنَ وَمَلَاَهٗ زِيْنَةً وَّاَمْوَالًا فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۙ
رَبَّنَا لِيُضِلُّوْا عَنْ سَبِيْلِكَ ۚ رَبَّنَا اطْمِسْ عَلٰٓى اَمْوَالِهِمْ وَاشْدُدْ
عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوْا حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ ﴿٨٨﴾

او وويل موسىٰ (تضرعاً) اى ربه زمونږ بيشكه تا وركړى دى دى فرعون او سردارانو د ده ته زينت (رونق) او مالونه په دغه ژوندون لږ خسيس كښې اى ربه زمونږ (وركړى دى دى دوى ته دغه اموال) دپاره د دى چه گمراه كړى دوى (خلق) له لیارى ستا نه اى ربه زمونږ محوه (كړه هلاک او مسخ) راوله پر اموالو د دوى او سختى راوله په زړونو د دوى نو ايمان نه راوړى دوى تر هغه چه ووينى دوى عذاب دردناک

**تفسير:** يعنى د هر قسم سامان رونق، آسايش، سينگار دى وركړى دى مثلاً د صورت ښائست، سورلى، عمده پوښاک، اثاثالبيت او نور او د مال او د دولت خزانى د سرو او د سپينو زرو درنگونه (كانونه) او نور دى وربښلى دى.

كه په (ليضلوا) كښې لام د تعليل دپاره ونيسو نو مطلب به ئى داسى كيږى چه په تكوينى دول(طريقه) سره دغه سامان دغو شريرانو ته ځكه وركړى شوى دى چه گرد(تول) سره مغروران او گمراهان شى. او نور وگړى (خلق) هم بى لارى كړى. او په بدو كارونو كښې ئى ولگوى. او په خلاص زړه او پرانيستلى لاس هر څه چه غواړى همغه وكړى. بيا به په آخر كښې وربښكاره شى چه هغه گرد(تول) مالونه او شته ئى هيڅ نه دى په كار ورغلى كله چه د خير او شر خالق پاک الله دى. او ظاهر دى چه د الله تعالىٰ هيڅ يو كار له حكمته او مصلحته تش نه دى نو لامحال په «خلق الشر» كښې هم د عالم د مجموعى په اعتبار كوم حكمت او مصلحت به خامخا وى، نو همغه حكمت شريرانو ته د دومره سامان او وسائل وركولو كښې هم منطبق كړئ

﴿ كُلًّا نُّمِدُّ هَٰؤُلَاءِ وَهَٰؤُلَاءِ مِنْ عَطَاءِ رَبِّكَ ۚ وَمَا كَانَ عَطَاءُ رَبِّكَ مَحْظُورًا ﴾ ١٥ جزء د سبحن الذى (٢٠) آية (٢) ركوع)

﴿ وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّمَا نُمْلِي لَهُمْ خَيْرٌ لِّأَنفُسِهِمْ ۚ إِنَّمَا نُمْلِي لَهُمْ لِيَزْدَادُوا إِثْمًا ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴾

(٤ جزء د آل عمران (١٧٨) آية (١٨) ركوع) ځينو مفسرانو

په «ليضلوا» كښې لام د «عاقبت» لپاره اخيستى دى لكه چه په «فالتقطه آل فرعون ليكون لهم عدوا وحزنا» كښې لام د «عاقبت» لپاره دى، نو په دغه وقت كښې به ئى مطلب داسى وى چه دغه ساز او سامان ئى ځكه وركړى وو، چه په خيريه ؤ امورو كښې ئى ولگوى. او د دغو نعمتو په لرلو خپل حقيقى منعم په ښه شان سره وپيژنى او د الله تعالىٰ له شكر كوونكو بندگانو ځنى شى. مگر په خلاف د هغه دوى له خپلى بدبختى د الله تعالىٰ د دغو نعمتو سره نور خلق بىلارى او گمراهان كړل او په دغه لاره كښې په خلاص زړه او لاس داسى بى پروا لگوى. لكه چه ئى خاص هم دغه كار لپاره وركړى وى. پر دغه تفسير هيڅ يو اشكال نه واردېږى.

كله چه موسىٰ عليه السلام تر يوى اوږدى مودى پورى هر راز (قسم) هدايت وكړه او عظيم الشانى معجزى ئى وربښكاره كړى مگر د معاندينو جحود او عناد لا پسى زياتيده تر دى حده پورى چه د تجربى، يا د صحبت د طول يا د الله تعالىٰ د وحى په وسيلى په پوره دول(طريقه) ثابته شوه چه دغه خلق له سره ايمان راوړونكى نه دى. نو دلته د دوى د هلاكت لپاره ئى دعاء وكړه څو

د دوی له پلیتی څخنی دنیا ژر پاکه شي او نور د دوی له بدی خاتمی څخنی د عبرت درس واخلی موسیٰ علیه السلام داسی ښیری وکړی چه «ای ربه! د دوی مالونه محوه او فناه کړه او د دوی په زړونو باندی داسی سخته غوټه واچوه! چه له سره پکښی ایمان او یقین اثر او نفوذ ونه شی کړی! او فقط په همغه وقت کښی دوی ته یقین حاصل شي چه د عذاب‌الیم ننداری پخپلو سترګو وګوری! دغه ښیری د دوی په حق کښی داسی وګڼئ لکه چه ابلیس ته «لعنه الله» یا کفارو ته «خذ لهم الله» ویلی کیږی حال دا چه د هغه د ملعونیت او د خذلان قطعی فیصله لا له پخوا څخه شوی ده. حضرت شاه صاحب د دی آیت تقریر په بل صورت سره کړی دی چه «د ړښتینی ایمان امید له هغو څخه نه کیده مګر څه مهال (وخت) چه کوم آفت او مصیبت چه پر دوی نازلیده نو په دروغو به ئی ویل چه اوس ئی منو که دغه عذاب له مونږ څخنی لری کړی شی! دلته به هغه عذاب له دوی څخنی دفع کیده، ولی خبره به ئی نه فیصله کیده. دغه ښیرا ئی څکه وفرمایله چه دوی په دروغو دعوی ونه کړی شي. او د دوی زړونه دی سخت اوسیږی څو عذاب واقع، او خبری سره فیصله او پری شی».

---

قَالَ قَدْ أُجِيبَت دَّعْوَتُكُمَا فَاسْتَقِيمَا وَلَا تَتَّبِعَآنِّ سَبِيلَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٨٩﴾

---

وفرمایل (الله) په تحقیق قبوله کړه دوه دعا ستاسی نو سم ولاړ اوسئ (په تبلیغ خپل) او متابعت مه کوئ تاسی د لاری د هغو کسانو چه نه پوهیږی (په حق یا ناپوهان دی په حکمت د تاخیر)

---

**تفسیر:** له روایاتو څخنی معلومیږی چه حضرت موسیٰ علیه السلام به ښیری کولی او حضرت هارون علیه السلام به آمین ویل. نو په دغه لحاظ سره ئی «دعوتکما» فرمایلی دی.

یعنی خپل کار په استقلال او ثابت قدمی سره پای (انجام) ته ورسوئ! که د دعا د قبولولو په آثارو کښی څه څنډ(ایسارتیا) درښکاره شی، نو د ناپوهانو په شان تلوار او بیړه مه کوئ! په مقدر وقت او مقرری نیتی کښی هم داسی چه ته ئی غواړی کیدونکی دی، مګر له ویریدلو او وارخطا کیدلو څخنی هیڅ شی په لاس نه درځی.

---

وَجَاوَزْنَا بِبَنِي إِسْرَآءِيلَ الْبَحْرَ فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ وَجُنُودُهُ بَغْيًا وَعَدْوًا ط

حَتّٰىٓ إِذَآ أَدْرَكَهُ الْغَرَقُ قَالَ اٰمَنْتُ أَنَّهُ لَآ إِلٰهَ إِلَّا الَّذِيٓ اٰمَنَتْ بِهِ بَنُوٓا إِسْرَآءِيلَ
وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿٩٠﴾ آٰلْـٰٔنَ وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ وَكُنْتَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ ﴿٩١﴾

او تیر کړل مونږ بنی‌اسرائیل له بحره (د قلزم روغ رمټ) نو چه پسی ورسیده په دوی پسی فرعون او لښکر د ده دپاره د ظلم او جفا، تر هغه کله چه ورسیده دغه (فرعون) ته غرق (ډوب شو او وویرید په هلاک خپل) نو وی ویل چه ایمان راوړ ما په دی چه بیشکه نشته هیڅ برحق معبود مګر یواځی هغه ذات دی چه ایمان راوړی دی پر هغه بنی‌اسرائیلو او زه یم له مسلمانانو (غاړه ایښودونکو حکم د الله ته، وفرمایل الله په رد د ایمان د فرعون په ژبه د پرښتی) آیا اوس (دی ایمان راوړ) حال دا چه په تحقیق نافرمانی دی کوله پخوا (له دی نه د رسول زما) او وی ته له مفسدینو (فساد کوونکو) نه

**تفسیر:** موسیٰ علیه السلام سره له څو لکو بنی‌اسرائیلو له مصره ووت. کله چه فرعون خبر شو نو یو زورور لښکر ئی د هغو د تعاقب لپاره واستاوه څو دوی د ده د ظلم له منګلو څخه خلاص نشی. کله چه بنی‌اسرائیل د (قلزم د بحیری) څنډی(خوا) ته ورسیدل نو ډیر زیات وارخطا او پریشان شول. ځکه چه وړاندی لوی بحر او تر شا ئی د فرعون زورور لښکر راته. موسیٰ علیه السلام دوی ته تسلی ورکړه. او د الله تعالیٰ په حکم ئی پخپل همسا بحر وواهه د بحر اوبه دی خوا او هغه خوا شوی او غوندی غوندی ودریدلی او د ده په منځ کښی دوولس وچی لاری د پاک الله په حکم جوړی شوی بنی اسرائیل ګرد(تول) سره له بحره پوری وتل. د بل لوری فرعون سره له خپلو لښکرو د «قلزم» څنډو (غاړو) ته ورسیدل. او پر دغو وچو لارو ئی خپل آسونه رهی(روان) کړل. کله چه ګرد(تول) فوجونه په دغو دوولسو لارو کښی تلل، او بیخی د بحر منځ ته داخل شول، نو د بحر په اوبو حکم وشو چه بیا سره یو ځای شئ، سم د لاسه د اوبو هغه بیل شوی طبقات سره یو ځای شول، او دغه ګرد(تول) افواج سره له خپلو تجهیزاتو د بحر په قعر (تل) کښی ډوب شول. کله چه فرعون ولیده چه زه هم اوس ډوبیږم، نو ډیر زیات وویرید او د ایمان او د اسلام لفظ ئی په ژبه راوړ، چه ګوندی د بنی‌اسرائیلو الله له ما څخنی د «ایمان» د لفظ د آوریدلو په سبب د بحر موجونه لری، او روغ رمټ می له اوبو وباسی. دلته د پاک الله داسی ارشاد صادر شو: ﴿ آٰلْـٰٔنَ وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ ﴾ الآیة - یعنی تا په ګرد(تول) عمر کښی مخالفت کاوه او له شرارت څخه دی لاس نه اخیسته اوس چه دی عذاب په عین‌الیقین سره ولیده، نو ایمان راوړی؟ د دی وقت ایمان بیکاره او یقین ئی بی‌اعتباره دی ﴿ فَلَمْ يَكُ يَنْفَعُهُمْ إِيمَانُهُمْ لَمَّا رَأَوْا بَأْسَنَا سُنَّتَ اللّٰهِ الَّتِي قَدْ خَلَتْ فِي عِبَادِهِ وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْكٰفِرُونَ ﴾ (٢٤)

جزء د المؤمن (٨٥) آية ٩ ركوع).

اى ناپوهه! نن ژړا كړه پخپل ځان

ځنكدن كښې بيا سود نه كړى هيڅ ارمان

**تنبيه** د قبض روح او د عذاب د معاينې په وقت كښې ايمان راوړلو ته د «غرغرى ايمان يا د بأس ايمان يا د يأس ايمان» وائى چه زمونږ د «اهل السنتو والجماعتو» په نزد نافع نه دى. شيخ عبدالوهاب شعرانى رحمة الله عليه په «اليواقيت والجواهر» كښې د «فتوحات مكيه» څخه عبارت نقل كړى دى، چه په كښې د فرعون د ايمان په نسبت هم دغه تصريح ده. په ديباچه كښې ئى ليكلى دى چه د فتوحات په نسخو كښې ملحدانو او زنادقهؤ دير عبارتونه په دسيسه باندى خراب كړى دى. هغه ډيره مستنده او معتبره نسخه د «فتوحات چه له ما سره ده په هغى كښې د دغو عباراتو هيڅ پته (اثر) نشته. والله اعلم

**فائده:** په آخر وقت الله تعالىٰ د فرعون له خولى څخه د «آمنت» لفظ وويست، او د حضرت موسىٰ عليه السلام د هغى دعا د مقبوليت اثر ئى وروښود: ﴿ فَلَا يُؤْمِنُوا حَتَّىٰ يَرَوُا الْعَذَابَ الْأَلِيمَ ﴾

---

فَالْيَوْمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنْ خَلْفَكَ آيَةً ۚ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ عَنْ آيَاتِنَا لَغَافِلُونَ ﴿٩٢﴾

---

نن ورځ به خلاصى دركړو تا ته په بدن ستا سره (بى روحه او وبه دى باسو له بحره لوڅ لغړ) دپاره د دى چه شى ته دپاره د هغه چا چه وروسته له تا راځى (لوى) آيت (دليل د عبرت)، او بيشكه چه ډير له خلقو د آيتونو (دلائلو د قدرت) زمونږ څخه خامخا غافلان دى (چه توجه پرى نه كوى).

---

**تفسير:** په «موضح القرآن» كښې دى: «هم داسى چه د فرعون بى وقته ايمان راوړل بى فائدى ؤ همغسى پاك الله د ده له مړ كيدلو څخه وروسته د هغه بدن ئى له بحر څخه د باندى د شگو په سر وغورځاوه چه بنى اسرائيل ئى وگورى، او شكر وباسى، او نور وروسته راتلونكى د ده له حال عبرت واخلى كه نه د هغه د مړى د نجات څه فائده متصوره وه. لكه چه ايمان ئى بى فائدى ؤ همغسى بى فائدى نجات ئى هم په برخه شو، د جديدهؤ تحقيقاتو له مخى ثابته شوى ده چه د فرعون كالبوت تر نن ورځى پورى همغسى محفوظ پاتى دى. ليكن د قرآنى الفاظو صحت د دى خبرى پر ثبوت نه دى موقوف.

وَلَقَدْ بَوَّأْنَا بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ مُبَوَّأَ صِدْقٍ وَرَزَقْنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ فَمَا ٱخْتَلَفُوا۟ حَتَّىٰ جَآءَهُمُ ٱلْعِلْمُ ۚ إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِي بَيْنَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُوا۟ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿٩٣﴾

او خامخا په تحقيق ځای ورکړ مونږ بنیاسرائيلو ته (پس له اهلاکه د فرعونيانو) ځای د صدق (رښتينی لايق په مصر او شام کښی) او غوره رزق روزی مو ورکړه دوی ته له طيباتو (پاکيزهؤ ځيزونو لذتناکو) نو اختلاف ونه کړ دوی (په دين کښی) تر هغه پوری چه راغی دوی ته علم (پر احکامو د تورات او دوی پکښی تغير وکړ)، بيشکه رب ستا حکم (فيصله) به وکړی په منځ د دوی کښی په ورځ د قيامت کښی په هغه ځيز کښی چه وو دوی چه په هغه کښی به ئی اختلاف کاوه (له احکامو د دين ځخه).

**تفسير:** يعنی فرعون ئی هلاک او بنی اسرائيلو ته ئی ږومبی د مصر مملکت ورکړ بيا لږ ځه مدت وروسته (عمالقه) ئی وويستل او د شام مملکت ئی هم ورکړ دغه دواړه ملکونه ودان، زرغون او سيراب (ماړوب) دی چه پکښی ښائسته او لذيذ شيان په افراط سره پيدا کيده. الغرض بنیاسرائيل ئی په حلالو او طيبو نعمتونو بيخی ماړه او ډک کړل.

﴿ فَمَا ٱخْتَلَفُوا۟ حَتَّىٰ جَآءَهُمُ ٱلْعِلْمُ ﴾ الآية - پس اختلاف ونه کړ دوی په دی کښی يا پشان د سيد المرسلين کښی تر هغه پوری چه راغی دوی ته علم په احکامو د تورت يا په محمدی صفاتو او بيا دوی تغير او تبديل په دغو دواړو کښی وکړ بيشکه چه رب ستا حکم به وکړی په منځ د دوی کښی په ورځی د قيامت کښی په هغه ځيز کښی چه وو دوی چه په هغه کښی به ئی اختلاف کاوه.) يعنی د مادی انعاماتو او اکراماتو سره په دينی او روحانی نعمتونو سره ئی هم سرلوړی ورکړه، د تورات شريف علم ئی ورکړ چه په کښی د دين اصول او فروع بيان شوی ؤ. او د پخوانيو او وروستنيو په نسبت ئی اخبار درلودل(لرل) له دغو واضحهؤ حقائقو د خبريدلو ځخه وروسته دغه وړ(مستحق) او لايق نه ؤ چه دوی به داسی صافو شيانو کښی اختلاف وکړی. او پخپلو منځونو کښی سره مناقشی او جګړی وکړی او د ګوند او ګوندبازئ په نحوست (شومتيا) کښی سره آخته شی مګر دوی سره د صحيح علم د لرلو او صادق خبر د رسيدلو په راز راز(قسم قسم) اختلافاتو کښی مبتلا او هر دول(طريقه) مناقشی ئی پيدا کړی او پرله پسی په نفاق او تفرقه اچولو کښی لګيا دی. په ځينو احکامو کښی ئی له خپل نبی موسیٰ عليه السلام سره هم ژبه او سوال او جواب وکړل لکه چه د غوا د حلالولو په واقعی کښی چه په مخ کښی

تير شو. وروسته د نورو انبياؤ بالخاصه زمونږ د خاتم النبيين سيدالمرسلين صلى الله عليه وسلم د رسالت ځينې له دوی ځنو تصديق وکړ. او علیالاکثرو ئې تکذيب وکړ، حال دا چه د دوی په متعلق پر ډيرو پخوا ويلو مطلع شوی وو. بلکه د محمدی صلى الله عليه وسلم له بعثت څخه پخوا د نبیآخرالزمان د راتګ منتظران وو. او له مشرکانو سره به ئې ويل چه مونږ به د آخرالزمان نبی سره ملګری کيږو او تاسی به هم سمی لاری ته راولو نه يواځی په هم دغی مسئلی کښی اختلاف واقع شو بلکه دوی پخپل مذهب کښی زيات تحريفات وکړل او د هغه اصول او فروع ئې سره بدل کړل او ورو ورو په دوی کښی ډيری فرقی پيدا شوی. د مسيح عليه السلام څخه دری سوه کاله وروسته (قسطنطين اعظم) چه يو فلسفی مزاجه پاچا وو، د نفاق له لاری د نصرانيت په دين کښی داخل شو نو پادريانو د (قسطنطين) له خاطره نوی قوانين وضع او نوی شريعت ئې جوړ کړ (قسطنطين) پادريانو ته لوئی لوئی ګرجی معابد او مشاهد تعمير کړل او د مسيحی دغه نوی دين ته ئې (چه اصلی د مسيحی دين ئې آړولی او وران کری ؤ) ښه اشاعت وکړ. پرته (علاوه) له څو تارکالدنيا راهبانو چه له کليو او ښارونو ځنی جلا(جدا) او بيل په بيديا او ځنګلونو او غرونو کښی اوسيدل، بل هيڅوک د مسيحی په اصلی دين پاتی نشو د صليبونو عبادت د مشرق (لمرخاته) په لوری لمونځ کول په کليساؤ د مسيح او بی‌بی مريمی د تصاويرو تعظيم او تکريم کول د خنزير او نورو محرماتو حلال ګڼل او د هم دی په شان نورو تحريفاتو د مسيحی دين اصلی حقيقت بيخی له منځه ورک او مسخ کړ. او هم دغه مسخ شوی مسيحيت په ګردی(تولی) دنيا کښی خور شو. په هم دغی زمانی کښی په شام، روم، بيت المقدس او الجزيره او نورو کښی د نصرانيانو تسلط او زور ؤ تر څو چه د (فاروق اعظم) په عهد کښی د محمدی اصحاب معظم رضی الله تعالیٰ عنهم اجمعين په توره دغه ممالک د نصرانيانو له قبضی څخه وويستل شول ولله الحمد والمنة.

فَإِن كُنتَ فِي شَكٍّ مِّمَّا أَنزَلْنَا إِلَيْكَ فَسْـَٔلِ الَّذِينَ يَقْرَءُونَ
الْكِتَٰبَ مِن قَبْلِكَ لَقَدْ جَآءَكَ الْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُونَنَّ
مِنَ الْمُمْتَرِينَ ﴿۹۴﴾ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِـَٔايَٰتِ اللَّهِ
فَتَكُونَ مِنَ الْخَٰسِرِينَ ﴿۹۵﴾ إِنَّ الَّذِينَ حَقَّتْ عَلَيْهِمْ
كَلِمَتُ رَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿۹۶﴾ وَلَوْ جَآءَتْهُمْ كُلُّ ءَايَةٍ حَتَّىٰ
يَرَوُا الْعَذَابَ الْأَلِيمَ ﴿۹۷﴾

نو که فرضاً ئی ته (یعنی امت ستا) په شک کښې له هغه (قرآن) چه نازل کړی دی مونږ تاته نو پوښتنه وکړه له هغو کسانو چه لولی دوی کتاب (تورات او انجیل) پخوا له تانه (له اهل الکتابو نه)، خامخا په تحقیق راغلی دی تاته حق له (طرفه د) رب ستا نو مه کیږه ته(یعنی امت ستا) له سره له شک راوړونکیو څخه. او مه کیږه ته (یعنی امت ستا) له سره له هغو کسانو چه تکذیب کوی دوی د آیتونو د الله نو به شی ته (یعنی امت ستا) له زیان کارانو. بیشکه هغه کسان چه حقه (ثابته) شوی ده (په علم الله یا لوح محفوظ کښې) پر دوی کلمه(حکم د عذاب) د رب ستا (په دی سره چه مری به په کفر) نو نه راوړی ایمان دوی. او اګر که راشی دوی ته دلیل د وحدانیت ( او د قدرت د رب العزت) تر هغه پوری چه ووینی دوی عذاب دردناک (په نزع یا قیامت کښې)

---

**تفسیر:** اګر که ظاهراً دغه خطاب رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته دی لیکن په حقیقت کښې د دوی په مخاطبه سره د هغو نورو ته آورول مقصود دی چه د یوه امی له ژبې داسی عظیم الشان حقائق او واقعات آوری. او حق حیران ورته پاتی کیږی او د جهل او تعصب له سببه د هغه واقعیت په نسبت د شک او تردد اظهار کوی که نه ښکاره ده چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به په خپله پخپل راوړی کلام کښې څرنګه شک او شبهه کولی شی. او د هغه مقدس شی په نسبت چه ګردی(تولی) دنیا ته دعوت ورکوی، او له غرونو څخنی زیات ټینګ یقین د آوریدونکو په زړونو کښې پیدا کوی، دی به څرنګه هغه په خپله ژبه دروغ ګڼی؟ څو آیته وروسته ښکاره فرمائی ﴿ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمْ فِى شَكٍّ مِّن دِينِى ﴾ الآیة - دغه آیت صاف راښیی چه شک او شبهه کوونکی نور خلق وو چه د هغو په مقابل کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپلې غیر متزلزلې او کلکې او قاطعې عقیدې سره داسې اعلان کوی په هر حال په دغو آیتونو کښې د رسول الله په ژبه هر یوه مخاطب ته تنبیه ورکړی شوی ده چه د کفر او تکذیب رنځوری ړومبی له شکه شروع کیږی. که تاسی ته د پاک قرآن په بیان کړیو واقعاتو کښې څه شک او شبهه پیدا کیږی نو ژر تر ژره د هغه علاج وکړئ! یعنی هغه خلق چه پر سابقه ؤ کتابونو پوه دی او علم لری له هغو څخنی تحقیق وکړئ! آخر په دوی کښې څه کسان رښتینی او انصاف خوښوونکی هم دی. هغوی به دا دروښیی چه دغه امی نبی څه چه فرمائی هغه تر کومه ځایه پوری درست او صحت لری؟ بلاشبهه هر هغه شی چه تا راوړی دی هغه پرته (علاوه) له رښتیا څخنی بل هیڅ شی نه دی هغه د پاک الله رالیږلی شوی کلام دی چه په کښې د شک او تردد هیڅ ځای نشته که د دغو چټی(بیکاره) او بیهوده شکوکو علاج ونه کړ شی نو په څو ورځو کښې به دغه شک دومره ترقی وکړی چه «امتراء» نزاع جګړی(جدل) ته ورسیږی بیا به (امتراء) تر دی اندازی پوری ترقی کوی چه د «تکذیب» تر حده پوری رسیږی، چه د هغه نتیجه پرته (علاوه) له خسرانه او خرابی

بل هیڅ نه دی. له تکذیبه وروسته یوه بله درجه ده چه د هغې په رسیدلو سره پر زړه مهر لګیږی او د پرله پسې تکذیب کولو څخه د قبول الحق استعداد بیخی په هغو کښې نه پاتې کیږی داسې سړی که د دنیا ګردی(تولی) نښې وګوری خو بیا هم ایمان نه راوړی د ده یقین به هلته راځی چه عذاب الیم وګوری خو په دغه وقت کښې به دغه یقین هیڅ یوه فائده ور ونه رسولی شی.

**فائده:** له «کلمة ربک ـ د رب له کلام څخه» مراد غالباً هغه دی چه په بل ځای کښې ئې فرمایلی دی. ﴿لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ﴾ یعنی دوزخ به له پیریانو او انسانانو ځنې ډکوم پر هغو خلقو چه له بد بختی، بد استعداد، د اعمالو له شامته دغه خبره د الله تعالیٰ په علم کښې ثابته شوی ده دلته د هغو ذکر دی.

فَلَوۡلَا كَانَتۡ قَرۡيَةٌ ءَامَنَتۡ فَنَفَعَهَآ إِيمَٰنُهَآ إِلَّا قَوۡمَ يُونُسَ لَمَّآ ءَامَنُواْ كَشَفۡنَا عَنۡهُمۡ عَذَابَ ٱلۡخِزۡيِ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَمَتَّعۡنَٰهُمۡ إِلَىٰ حِينٖ ﴿٩٨﴾

نو ولې نه وه اهل د یوې(نافرمانې) قریې چه ایمان ئې راوړی وی (پخوا له نزوله د عذابه) پس نفع رسولې وی ورته ایمان د (اهل د ) دې (قریې) مګر قوم د یونس کله چه ایمان راوړ هغو (په لیدلو د علائمو د عذاب) نو دفع پورته کړ مونږ له دوی نه عذاب و ذلت په دې ژوندون لږ خسیس کښې او فائده ورسوله مونږ دوی ته تر وقت د مرګ پورې.

**تفسیر:** یعنی هغومره کلی چه د انبیاؤ د تکذیب او د خپلو شرارتونو لامله(له وجې) د پاک الله د عذاب مستوجب شوی دی د هغو له منځه هیڅا ته د داسې ایمان راوړلو نوبت نه دی راغلی چه دوی د الله تعالیٰ له عذابه وژغوری(بچ کړی)، یواځې د یونس علیه السلام د قوم یو مثال شته، چه هغو په ایمان راوړلو خپلو سره خپل ځانونو ته د الله تعالیٰ د هغه رسیدونکی عذابه ژر نجات ورکړ چه بیخی د دوی په سر وګرځیده نو پاک الله د ایمان راوړلو په برکت په دنیوی ژوندانه کښې له دوی ځنې هغه راتلونکی عذاب ستون (واپس) کړ او تر هغه وقته پورې چه دوی په دنیا کښې اوسیدل، دوی ئې د دنیوی فوائدو او برکاتو ځنې منتفع کړل. مفسران نقل کوی چه حضرت یونس علیه السلام په (موصل) کښې د (نینویٰ) خلقو ته مبعوث شو. د دې ځای خلق بت پرستان وو. یونس علیه السلام متصلاً تر اوو کالو پورې هغوی ته پند او نصیحتونه کول مګر دوی له سره د ده خبرو ته غوږ نه کیښود یوماً فیوماً د دوی انکار او تکذیب لا پسې زیاتیده آخر حضرت یونس علیه السلام په تنګ شو. نو دوی ته ئې ښیرې وکړې (که له دغو چارو څخه

مو لاس وانخیست نو د دری ورځو په منځ کښې پر تاسو باندی عذاب راتلونکی دی) کله چه دریمه شپه راغله یونس علیه السلام په نیمه شپه کښې له دغه کلی څخه ووت د سپیده داغ په مهال (وخت) کښې د عذاب آثار او علائم ورښکاره شو په آسمان کښې تکه توره ویروونکی وریځ وخته چه له هغی څخه سخت دود او لوګی پورته کیده او خوریده او کلیو او کورونو ته نژدی راته تر دی چه د کورونو چتونه ئی بیخی تیاره شول. د دغو اثارو د لیدلو څخه کله چه د دوی یقین پر خپل هلاکت راغی نو د یونس علیه السلام په لټولو پسی ولویدل هر کله چه هغه ئی ونه مونده نو ګرد(ټول) خلق سره له ښځو وړوکیو بلکه له خپلو بودګانو(څاروو) او مواشیو سره د باندی بیدیا ته ووتل او په خلاص زړه او صافی عقیدی ئی د پاک الله په لوری رجوع وکړه. او له ډیری ویری ئی ژړل او چغی ئی وهلی او په ډیره تضرع او اخلاص سره ئی د الله تعالیٰ په دربار کښې دعاوی کولی له څلورو خواؤ د آه ؤ او بکاؤ غږونه پورته کیدل. او ګردو(ټولو) به سره ویل چه «**آمنا بماجاء به یونس** ایمان مو راوړی دی پر هغه څه چه یونس علیه السلام له خپله ځانه سره راوړی دی» حق تعالیٰ په سبب د دغی تضرع، بکاء، واویلا پر دوی باندی رحم وفرمایه او د عذاب هغه آثار ئی چه ورڅرګند(ښکاره) کړی ئی وو بیرته لری کړل له دی ځایه وروسته د سلفو علماؤ دلته دوه قوله دی اکثر علماء وائی چه تر دغه وقته پوری دوی د اصلی عذاب معائنه نه وه کړی او تش د هغه د علائمو او آثارو په لیدلو باندی پوه شوی وو. د داسی وقت ایمان شرعاً معتبر او نافع دی هغه «ایمان بأس» چه مقبول او معتبر نه دی له هغه څخه مراد دا دی چه عین عذاب وګوری او په کښې اخته شی او بیا ایمان راوړی لکه چه فرعون د سیند په موجونو او څپو کښې راګیر شوی ؤ او هلته ئی اقرار وکړ د ځینو علماؤ په نزد د یونس علیه السلام د قوم ایمان هم د فرعون په شان د «بأس» ایمان ؤ چه د عمومی ضابطی سره موافق ښائی چه نه به نافع کیده، لیکن الله تعالیٰ محض په خپل فضل او کرم سره خلاف القاعده استثناء د دغه قوم ایمان ته اتبار وباښه د فرعون د ایمان په شان مردود ئی ونه فرمایه. بیا په دی کښې سره اختلاف دی چه آیا د دوی د ایمان اعتبار یواځی په دنیوی ژوندانه پوری محدود ؤ چه په دنیا کښې هغه راتلونکی عذاب له هغو ستون (واپس) شو. یا په آخرت کښې هم د نجات موجب ګرځی؟ (ابن کثیر رحمة الله علیه) دغه دوهم احتمال ته ترجیح ورکړی ده. یعنی په دنیا او آخرت په دواړو ځایونو کښې به مفید او معتبر وی والله اعلم. حضرت شاه صاحب په نهایت لطیف او دقیق طرز د دی آیت تفسیر کړی دی «یعنی په دنیا کښې د عذاب په لیدلو سره یقین کول د هیچا په کار رانغی مګر د یونس علیه السلام د قوم، ځکه چه پر هغو عذاب لا نه ؤ رسیدلی، د حضرت یونس علیه السلام د جلتی او عجلت لامله(له وجی) محض د عذاب صورت ورښکاره شو (څو د دوی په نظر کښې د یونس علیه السلام خبره بی حقیقته څرګنده نشی) کله چه هغو ایمان راوړ نو نجات ئی وموندہ او د عذاب صورت هم تری لری شو هم داسی د مکی معظمی د مشرکینو ایمان هم قبول شو او امان ئی ور په برخه شو کله چه اسلامی مجاهدین د دوی د قتل او لوټ لپاره تللی وو» د حضرت یونس علیه السلام پاتی قصه د الصافات په سورت

او نورو ځايونو کښې راځي.

وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَاٰمَنَ مَنْ فِي الْاَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيْعًا ؕ اَفَاَنْتَ تُكْرِهُ النَّاسَ حَتّٰى يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ﴿٩٩﴾

او که اراده فرمائلي وی رب ستا (ايمان د تولو خلقو) خامخا ايمان به راوړی وی هغو کسانو چه په ځمکه کښې دی تولو په اجتماع سره، آيا نو ته مجبوره کوی (بې له ارادی ځما) خلق تر هغه چه شی دوی (تول) مؤمنان (يقين لرونکی) بلکه نه ئی شی

**تفسير:** يعنی تاسی داسی قدرت نه لرئ چه په زور او زياتی د چا په زړه کښې ايمان واچوئ، که الله تعالىٰ اراده فرمائلی وی نو د گردو(تولو) انسانانو په زړونو کښې ئی ايمان اچولی شو. مگر څرنگه چه په متعددو مواضعو کښې تقرير کړی شوی دی، کله چه داسی کول د الله تعالىٰ د تکوينی حکمت او مصلحت څخه خلاف ؤ نو ځکه ئی ونه فرمايل.

وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ اَنْ تُؤْمِنَ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَيَجْعَلُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿١٠٠﴾

او نه دی (ممکن) لپاره د هيڅ نفس دا چه ايمان راوړی مگر (ممکن دی) په اذن (اراده) د الله، (او اراده کوی الله ايمان د ځينو) او آچوی پليتي (غضب خپل) په هغو کسانو چه نه چلوی عقل (او فکر په دلائلو او آيتونو د الله کښې)

**تفسير:** بې د الله تعالىٰ له مشيت او توفيقه او تکوينی حکم هيڅوک ايمان نشی راوړی او دغه حکم او توفيق د همغو په حق کښې کيږی چه د الله تعالىٰ د قدرت په نښو او آيتونو غور او فکر وکړی. او له عقله او فهمه کار واخلی، هغه کسان چه د پوهيدلو او سنجولو (غور کولو) تکليف پر ځان نه تيروی، نو الله تعالىٰ دوی همغسی د کفر او شرک په نجاست کښې دوب او ککړ پريږدی.

قُلِ انْظُرُوْا مَاذَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ وَمَا تُغْنِي الْاٰيٰتُ وَالنُّذُرُ عَنْ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ۝١٠١

ووايه (اى محمده ! دى مشركانو ته) چه وګورئ چه څه (قسم عجيبه عجيبه دلائل د وحدانيت) دى په آسمانونو او ځمكه كښې، او نه دفع كوى (عذاب) دلائل (د وحدانيت) او (آوريدل د كلام د) ويروونكيو له هغه قوم څخه چه ايمان راوړونكى نه دى دوى.

**تفسير:** يعنى د غور كولو او پوهيدلو لپاره په آسمان او ځمكه كښې د الله تعالىٰ د قدرت، حكمت، توحيد، تفريد او نورو ډيرى نښى موجودى دى بلكه هره ذره، هر بخركى، هر پانه د ده پر توحيد دلالت كوى

هر پانه هر بخركى په نظر كښى د هوښيار

د الله د پيژندلو لوى دفتر دى لوړ آثار

ليكن هغه چه د كومى خبرى منونكى او تسليم كوونكى نه وى نو د ده لپاره دغه ګردى(تولى) نښى او دلائل بيكاره دى. او د ويروونكو انبياؤ تنبيه او تخويف هم پر دوى غير مؤثر ثابتيږى.

فَهَلْ يَنْتَظِرُوْنَ اِلَّا مِثْلَ اَيَّامِ الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ
قُلْ فَانْتَظِرُوْا اِنِّيْ مَعَكُمْ مِّنَ الْمُنْتَظِرِيْنَ ۝١٠٢

نو آيا انتظار كوى دا (مشركان په سبب د تكذيب ستا، بلكه انتظار نه كوى هيڅ څيز ته) مګر (انتظار كوى) په شان د هغو بدو ورځو(وقايعو) د هغو كسانو چه تير شوى دى پخوا له دوى نه، ووايه (اى محمده ! دوى ته) نو انتظار كوئ تاسى بيشكه زه هم له تاسى سره له انتظار كوونكو څخنى يم.

**تفسير:** د داسى ضدى او معاند قوم لپاره چه د هيڅ يوه دليل او نښى منونكى نه وى، نو هيڅ شى نه دى باقى پرته (علاوه) له دى نه چه تيرو مكذبينو هغه آفات او حوادث چه نازل شوى دى، دوى دى هم د همغه په انتظار كښى اوسى. نو ښه خو دا دى چه تاسى او مونږ دواړه سره ګډ د هغه وقت منتظر اوسو څو چه د صادق او د كاذب همغه وروستنى فيصله وړاندى شى.

ثُمَّ نُنَجِّيْ رُسُلَنَا وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كَذٰلِكَ ۚ حَقًّا عَلَيْنَا نُنْجِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝١٠٣

بيا نجات ورکړ مونږ رسولانو زمونږ ته او هغو کسانو ته چه ايمان ئې راوړی وو هم داسی (چه نجات ورکړ مونږ هغو ته)، ثابته ده پر مونږ (تلطفاً دا چه) خلاصوو (نور) مؤمنان (هم).

**تفسير:** يعنی همغسی چه له پخوانيو قومونو سره زمونږ عادت جاری وو چه مکذبين به مو هلاکول او انبياء او مؤمنينو ته به مو نجات ورکاوه، هم داسی د موجودهؤ او مستقبلو مؤمنينو په نسبت زمونږ وعده هم دا ده چه هغو ته به نجات ورکاوو ، په آخرت کښی د عذاب اليم څخه او په دنيا کښی به د کفارو له مظالمو او سختيو څخه مامون او مصؤن وی. ولی شرط دا دی چه مؤمنين، صادق مؤمنين وی. يعنی د هغو صفاتو او خصالو او خصائصو خاوندان وی چه په پاک قرآن او په حديث کښی د مؤمنينو په نسبت بيان شوی دی.

قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمْ فِى
شَكٍّ مِّن دِينِى فَلَآ أَعْبُدُ ٱلَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ
وَلَٰكِنْ أَعْبُدُ ٱللَّهَ ٱلَّذِى يَتَوَفَّىٰكُمْ ۖ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ
ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٠٤﴾ وَأَنْ أَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا وَلَا تَكُونَنَّ
مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٠٥﴾ وَلَا تَدْعُ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكَ
وَلَا يَضُرُّكَ ۖ فَإِن فَعَلْتَ فَإِنَّكَ إِذًا مِّنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٠٦﴾

ووايه (ای محمده !) ای خلقو که يئ تاسی په شک کښی له دينه زما (چه صحيح دی که غلط) نو (ئی درښکاروم چه) عبادت نه کوم زه د هغو(بتانو او نورو) چه عبادت (ئی) کوئ تاسی غير له الله څخه وليکن عبادت کوم زه د الله هغه چه وفات کوی تاسی (وباسی روح ستاسی په شدت سره)، او امر حکم شوی ماته داسی چه يم له مؤمنانو (يقين لرونکو) نه. او (داسی حکم راباندی شوی) چه سم ودروه مخ (ذات) خپل دين ته) حال دا چه مائل ئی له باطلو اديانو څخه (حق دين ته)، او مه کيږه (يعنی نه دی کيږی امت ستا) له سره له مشرکانو او مه بوله (په عبادت سره) پرته (سيوا) له الله هغه چه نفع نه رسوی تاته (بلنه د هغه) او نه ضرر رسولی شی تاته (بلنه د هغه)، نو

كه بالفرض دى وكړ عبادت د غير الله نو بيشكه ته هم په دغه وقت كښې ئى له ظالمانو

**تفسير:** يعنى كه زما طريقه او دينى مسلك ستاسى په فكر كښې ځاى نه دى نيولى او تاسى پرى نه پوهيږئ، نو ځكه د هغه په نسبت په شكوكو او شبهاتو كښې لويدلى يئ، نو زه د خپل دين اصل‌الاصول (چه خالص توحيد دى) درښيم او درپوهوم ئى خلاصه دا چه زه ستاسى د دغو فرضى معبودانو له عبادته سخت نفور او بيزار يم، چه د هغو اختيارول زما له لورى له سره امكان نه لرى او نه ښائى چه تاسى دغسى تصورات په خپلو زړونو كښې وګرځوئ! زما عبادت خالص هغه الله قدوس ته دى چه د هغه په قبضه او واك(اختيار) كښې ستاسى ارواح او ساوى دى. تر هغه وقته چه د ده حكم او اراده وى هغه ستاسى په جسمونو كښې پريږدى، او هر كله چه اراده وفرمائى سم د لاسه ئى درځنى راكاږى ګواكى د موت او حيات تار چه د هر هغه ذات په قدرت او اختيار كښې دى، د همغه عبادت كيدى شى نه بواځى دا چه په جوارحو سره د هغه عبادت كول ضرورى دى بلكه ښائى چه په زړه كښې هم د ده په توحيد او تفريد پوره يقين او ايمان وى، او په ظاهر او باطن كښې پر دغه حنيف دين چه د ابراهيم خليل الله دين دى په پوره همت او توجه سره استقامت په كار دى او د جلى او خفى شرك نښې او آثار ښائى بيخى له منځه ورك وى، همغسى چه عبادت د همغه «وحده لاشريك له» ذات ته كوو، ښائى چه استعانت او مرسته(مدد ) هم له همغه لوى ذات څخه وغواړو، ځكه چه هر قسم نفع او نقصان او نيكى او بدى او نور تول بواځى د ده په واك(اختيار) او قبضه كښې دى. د مشركينو په شان له داسى شيانو ځنى مدد او مرسته(امداد ) غوښتل چه د هيڅ يوه قسم نفعى او نقصان مالك نه وى سخته بى موقعه خبره ده بلكه د ظلم عظيم (يعنى د شرك) يوه شعبه ده. كه په فرض محال سره له نبى صلى الله عليه وسلم څخه داسى كوم حركت صادر شى، نو د هغه عظيم الشان شخصيت په لحاظ به هغه خورا(ډير) لوى ظلم وى.

وَإِن يَمْسَسْكَ ٱللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُۥٓ إِلَّا هُوَ ۖ وَإِن يُرِدْكَ بِخَيْرٍ فَلَا رَآدَّ لِفَضْلِهِۦ ۚ يُصِيبُ بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۚ وَهُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٠٧﴾

او كه ورسوى تاته الله كوم قسم ضرر (لكه مرض او فقر) نو نشته لرى كوونكى د هغه (هيڅوك) مګر هم دى دى، او كه اراده وكړى تاته د خير (لكه صحت او غنا) نو نشته هيڅ منع كوونكى د فضل د ده! رسوى (الله) دا (خير) هر هغه چاته چه اراده وفرمائى له بندګانو خپلو نه، او هم دى ښه مغفرت كوونكى (د خطياتو) ډير رحم والا دى (په اكرام د اجر او ثواب)

**تفسير:** كله چه د دغو شيانو د بلنې او دعوت څخه ئې وفرمايل چه د دوى په قبضه كښې نه ستاسى خير او نه شر شته، نو مناسب شو چه د هغه په مقابل كښې د مالك على‌الاطلاق ذكر هم وكړ شى! چه د تكليف او راحت، د خير او شر پر پوره سلسله كامل اختيار او اقتدار او پوره قبضه او قوت لرى او د هغه راليږلى تكليف هيڅوك له دنيا نشى لرى كولى. او په هر چا چه د خپل فضل او مرحمت اراده وفرمائى نو هيڅ يو طاقت ئې له هغه څخه نشى محرومولى.

قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ ۖ فَمَنِ ٱهْتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهْتَدِى لِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۖ وَمَآ أَنَا۠ عَلَيْكُم بِوَكِيلٍ ﴿١٠٨﴾

ووايه (اى محمده !) اى خلقو په تحقيق راغلى دى تاسى ته حق (قرآن او رسول) له جانبه د رب ستاسى نو هر چا چه سمه لياره ومونده (ايمان او طاعت ته) نو بيشكه هم دا خبره ده چه لياره مومى دپاره (د نفع) د ځان خپل، او هر څوك چه ګمراه شو نو بيشكه هم دا خبره ده چه ګمراه كيږى پر ځان خپل (چه ضرر ئې وررسيږى)، او نه يم زه پر تاسى باندى وكيل (ساتونكى د اعمالو ستاسى).

**تفسير:** يعنى حق په واضح ډول(طريقه)، سره له دلائلو او براهينو در رسيدلى دى. چه د هغه په نه قبلولو كښې هيڅ يو معقول عذر د هيچا سره نشته. د پاك الله آخرى حجت هم پر بندګانو تمام شوى دى. نو اوس دى هر څوك خپله نفع او نقصان وسنجوى (سوچ وكړى) . او د هغه فكر دى له خپله ځانه سره وچلوى. هر هغه چه د پاك الله په ښوولى سمى ليارى لاړ شى، په دنيا او آخرت كښې كامياب او بريالى كيږى. او هر هغه څوك چه دغه سمه لياره پريږدى. او دغه لورى هغه لورى ته لالهانده او سرګردانه ګرځى، نو دى خپل ځان پخپله ذليل، خوار او بى مقداره كوى. نو خپل خير او شر دى هر سړى وسنجوى (معلوم كړى) ! او د خپل مستقبل فكر او انديښنه او لازم انتظام دى وكړى! هره هغه لياره ئې چه غوره او پسنده وى همغه دى اختيار كړى. رسول صلى الله عليه وسلم داسى آزاد او خپلواك او خپل سرى سړى نه دى درليږلى شوى، چه ستاسى د دغو افعالو تعهد او ذمه وارى پخپله غاړه واخلى. يا ستاسى په ځاى دى جواب وركړى. د ده كار تش خبرول او سمه لاره ښوول دى. پر هغه تلل پخپله د تلونكى كار دى.

وَاتَّبِعْ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيْكَ وَاصْبِرْ حَتَّىٰ يَحْكُمَ اللَّهُ ۚ وَهُوَ خَيْرُ الْحَاكِمِينَ ﴿١٠٩﴾

او متابعت وکړه (ای محمده!) د هغه څیز چه وحی کولی شی تاته او صبر کوه (په طاعت او مصیبت او له معصیت) تر هغه پوری چه حکم وفرمائی الله (په نصرت او غلبه ستاسی)، او هم دغه الله خیر غوره د تولو حکم کوونکو دی.

**تفسیر:** په دی سره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته تسلی ورکړی شوی ده چه که دا خلق حق نه قبلوی، نو تاسی د دوی په غم کښی خپل ځان له لاسه مه وباسئ! تاسی د الله تعالیٰ د احکامو متابعت کوئ! او د تبلیغ او دعوت په کارونو کښی تل لګیا اوسئ! او پر هغو شدائدو چه په دغه لیاره کښی تاسی ته ورسیږی، صبر کوئ! او د مخالفینو پر ایذاء او تکذیب تحمل وکړئ تر هغه پوری چه پاک الله د دوی او ستاسی په منځ کښی ښه فیصله وکړی. یعنی سم له خپلی وعدی سره تاسی مظفر او منصور کړی. یا د جهاد حکم درولیږی.

**تمت سورة یونس علیه السلام بمنه تعالیٰ وفضله فلله الحمد علیٰ ذلک**

سورة هود مکیة الا الآیات ۱۲ و ۱۷ او ۱۱٤ فمدنیة وهی مائة وثلث وعشرون آیة وعشر رکوعات عدد تلاوتها (۱۱) وعدد نزولها (٥۲) نزلت بعد سورة یونس علیه السلام

د هود سورت مکی دی پرته (علاوه) له ۱۲ ؤ ۱۷ ۱۱٤ آیتونو چه مدنی دی (۱۲۳) آیتونه (۱۰) رکوع لری په تلاوت کښی (۱۱) او په نزول کښی (٥۲) سورت دی وروسته د یونس له سورته نازل شوی دی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

شروع په نامه د الله چه خورا(ډیر) مهربان ډیر رحم والا دی.

الٓر ۚ كِتَابٌ أُحْكِمَتْ آيَاتُهُ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِن لَّدُنْ حَكِيمٍ خَبِيرٍ ﴿١﴾

(دا) کتاب دی چه محکم کړی شوی دی آیتونه د ده (چه ورته لاره نه مومی هیڅ نقصان او خلل) بیا په تفصیل سره بیان شوی له نزده د لوی حکمت والا ښه خبردار شخه

**تفسير:** يعنى دغه قرآن كريم هغه عظيم الشان او جليل القدر كتاب دى چه ګرد(تول) آيتونه ئى د لفظى او معنوى او نورو حيثيتونو بيخى ثابت، قائم، آزمويلى شوى دى. تللى (وزن كرى شوى) او ښه سنجولى (تحقيق) شوى دى، نه په هغه كښى څه تناقص شته او نه كوم مضمون ئى د حكمت او واقعيت په خلاف دى. او نه د اعجاز، فصاحت، بلاغت، او نورو له پلوه په يوه تورى او حرف ئى څه تنقيد او اعتراض كيدى شى هر هغه مضمون ئى چه په هر عبارت سره اداء فرمايلى دى، محال دى چه له هغه څخه بهتر او ښه تعبير وكرى شى. د الفاظو قباء د معانيو پر قامت نه لږ څه ارته او نه تنګه ده پر هغو اصولو، فروعو، اخلاقو، اعمالو او قيمتدارو پندونو او نصيحتونو چه دغه قرآنى آيات مشتمل دى او هغه دلائل او براهين چه د دعاويو د اثبات لپاره استعمال شوى دى. هغه ګرد(تول) د علم او حكمت په تله كښى تللى شوى دى قرآنى حقايق او دلائل داسى مضبوط او محكم دى چه هر څومره زمانه تيره شى او شپى او ورځى سره وچورلى د هغو د بدليدلو يا غلط كيدلو هيڅ امكان نشته، د عالم د مزاج پوره تشخيص ئى كرى دى او تر قيامته پورى په مخكښى راتلونكى تغيرات او حوادث ئى من كل الوجوه ازمويلى او تللى او داسى يو معتدل او ابدى روحى غذا ئى د قرآنى مائدى په ذريعه تولى دنيا ته وراندى كرى دى چه د تناول كوونكو لپاره په هر وقت او هر حالت كښى مناسب او ملائم دى. سره د دغو ګردو(تولو) حكيمانه ؤ ښيګتو (فايدو) داسى هم نه دى چه د اجمال او ابهام له سببه كتاب د معما او چيستان(معمى) او قيصى شكل ئى غوره كرى وى. بلكه د معاش او معاد تمام مهمات ئى ښه په ښكاره صاف دول(طريقه) سره بيان كرى او ګرد(تول) لوستونكى ئى پرى پوهولى دى او موقع په موقع ئى د توحيد دلائل، احكام، مواعظ، قصص او نور شيان په ډير ښه صورت او قرينى سره بيل بيل ايښى دى او د ګردو(تولو) ضرورياتو كافى تفصيل ئى بيان فرمايلى دى. په نزولى حيثيت كښى هم دغه حكمت مرعى دى چه تول قرآن يو ځلى نه دى نازل شوى. بلكه وقتاً فوقتاً د موقع او مصلحت په لحاظ د جلا جلا(جدا جدا) آيتونو نزول شوى دى د پاك قرآن دغو ګردو(تولو) دقائقو او حقائقو ته په مجموعى دول(طريقه) سره چه انسان ورته ګورى حق حيران پاتى كيږى مګر د حيرت ځاى نه دى كه د مطلق حكيم، او د برحق خبير په كلام كښى دغه ګرد(تول) حكمتونه او محاسن سره مجموع نه وى، نو د هغه توقع په بل كوم كلام كښى كيدى شى؟ بلكه له سره نشى كيدى.

---

أَلَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّا ٱللَّهَ

---

چه عبادت مه كوئ (د هيچا) مګر (يوائى) د الله،

---

**تفسير:** يعنى د دى محكم او مفصل كتاب د نازلولو لوى مقصد دا دى چه ګرد(تول) عالم

یوائحې د الله واحد د عبادت په لوری متوجه شي، او د هغه بلنه نورو ته وکړي او طریقه ئې وروښيي. نو د دغه عظیم او جلیل مقصد لپاره ړومبي انبیاؤ تشریف راوړی ؤ

﴿ وَمَآ اَرۡسَلۡنَا مِنۡ قَبۡلِكَ مِنۡ رَّسُوۡلٍ اِلَّا نُوۡحِیۡۤ اِلَیۡهِ اَنَّهٗ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّاۤ اَنَا فَاعۡبُدُوۡنِ ﴾ (۱۷ جزء د الانبیاء (۲۵) آیة (۲) رکوع)

﴿ وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِیۡ كُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوۡلًا اَنِ اعۡبُدُوا اللّٰهَ وَاجۡتَنِبُوا الطَّاغُوۡتَ ﴾ (۱٤ جزء د النحل (۳٦) آیة (٥) رکوع)

اِنَّنِیۡ لَكُمۡ مِّنۡهُ نَذِیۡرٌ وَّبَشِیۡرٌ ۝۲

(او ووایه ای محمده) چه بیشکه زه تاسي ته له (طرفه د) الله ویروونکی یم (له جحیمه) او زیری ورکوونکی یم (په نعیم سره)

**تفسیر:** یعنی هغه چه کتاب الله ومني، او شرک او کفر پریږدی او د الله واحد احد صمد عبادت وکړی نو ده ته د دارینو د فلاح زیری او بشارت آوروی او هغه چه نه ئې مني او کفر او شرک ځان ته غوره کوی، نو هغه د الله تعالیٰ له عذابه ویروی.

وَّاَنِ اسۡتَغۡفِرُوۡا رَبَّكُمۡ ثُمَّ تُوۡبُوۡۤا اِلَیۡهِ یُمَتِّعۡكُمۡ مَّتَاعًا حَسَنًا اِلٰۤی اَجَلٍ مُّسَمًّی وَّ یُؤۡتِ كُلَّ ذِیۡ فَضۡلٍ فَضۡلَهٗ ؕ وَاِنۡ تَوَلَّوۡا فَاِنِّیۡۤ اَخَافُ عَلَیۡكُمۡ عَذَابَ یَوۡمٍ كَبِیۡرٍ ۝۳

او (پس له توحیده امر کوم) چه مغفرت وغواړئ له ربه خپله (د تیرو ګناهونو) بیا رجوع وکړئ الله ته (په طاعت سره له ګناه نه) چه فائده دررسوی تاسی ته په نفع غوره سره تر هغی نیتی تاکلی (مقرر کړی) شوی پوری او ور به کړی (الله) هر خاوند د فضل ته فضل د هغه، او که وګرځیدئ تاسي (ای کفارو له اسلامه) نو بیشکه زه ویریږم پر تاسی له عذابه د ورځی لوئی نه (د قیامت).

**تفسیر:** هغه څوک چه د خپلو پخوانیو تقصیراتو معافی وغواړی او د مستقبل لپاره د الله تعالیٰ په لوری د زړه په صدق سره رجوع وکړی نو دنیوی ژوندون ئې په ښه ډول(طریقه) تیریږی. ځکه چه قانت مؤمن په هر حال کښې د پاک الله فضل او کرم ته لوی لوی امیدونه، هیلی (ارزوګانی) او اسری کوی. دی د الله تعالیٰ د رضاء غوښتلو او د مستقبل د عظیم الشانی خوشالی او مسرت

په تصور كښې دومره محظوظ او مستغرق اوسيږي چه د دې دنيا له ډيرو ربړو (تكليفونو) او سختيو څخه هم دومره نه متاثر كيږي. دې چه كله خيال كوي چه زه په خپل ژوندون كښې خپله فريضه په صحيح ډول(طريقه) سره پاى (انجام) ته رسوم، چه د هغه صله به خامخا يوه ورځ د عرش العظيم د لوى څښتن (خاوند) له حضوره ماته راكوله كيږي، نو پخپل برى او د حق تعالىٰ په وعدو اعتماد كوي او د هغه زړه د مسرت له جوشه ترپيږي، او په سخت غورځنګ كښې اوسيږي او ده ته د دې دنيا په لوړه پنګه(منافع) كښې هغه قلبي سكون او باطني راحت په برخه كيږي. چه پاچاهانو ته له بيشمارو سامانونو او ډيرو اموالو او زياتو خزائنو څخه نشي حاصليدى بلكه په ځينو اوقاتو كښې د دې دنيا په څو ورځنيو تكليفونو او سختيو كښې دى هغه خوند او مزه مومي چه اغنياء او ملوک هغه په خپل عيش او عشرت، راحت، او تنعم كښې هم نشي محسوسولى:

څوک چه الله پيژنى له سر او زر تيريږى
له كور كهول او مال و ملک تر خپل تبر تيريږى
روغ ليونى ترى كړى جوړ دواړه جهان وربښى
له دوو جهانه ليونيان يى لكه نر تيريږى
دوى رنج كښې ګنج په غم كښې خوند مومي الله غواړى تل
رضا د حق ئى وى مقصد له كوز او بر تيريږى
په ذكر فكر د الله اوسه مشغول «برهانه!
فنا فى الله له بحر فضا او سم او غر تيريږى

﴿ وَيُؤْتِ كُلَّ ذِي فَضْلٍ فَضْلَهُ ﴾ او ور به كړى الله هر خاوند د فضل ته فضل د هغه) يعنى هومره ئى چه عمل ور زياتيږى په همغه اندازه د الله تعالىٰ له فضله زياته برخه مومي په آخرت كښې اجر او ثواب او په دنيا كښې زيات طمانيت او دادينه (سكون) ورپه برخه كيږى.
﴿ وَإِن تَوَلَّوْا ﴾ الآية ـ او كه شا وګرځوئ تاسى اى كفارو له اسلامه يا له متابعته ځما پس بيشكه زه ويريږم په تاسى له عذابه د هغى ورځى چه لويه ده چه ورځ ده د قيامت) يعنى كه زما خبره نه منئ نو د قيامت عذاب يقيني دى. باقى داسى فرمايل چه زه ويريږم په تاسى، له دى نه مقصود د رسول اكرم صلى الله عليه وسلم عمومي شفقت او د خلائقو سره د همدردئ او خواخوږئ اظهار دى (تولوا په اصل كښې «تتولوا» ؤ بيا يوه «ت» ترى حذف شوى ده.)

---

إِلَى اللَّهِ مَرْجِعُكُمْ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٤﴾
أَلَا إِنَّهُمْ يَثْنُونَ صُدُورَهُمْ لِيَسْتَخْفُوا مِنْهُ أَلَا حِينَ يَسْتَغْشُونَ
ثِيَابَهُمْ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٥﴾

خاص الله ته بيرته ورتله ستاسي دى، او الله په هر څيز باندى ښه قادر دى (چه اراده وفرمائى نو ستاسي اعاده هم ورته آسانه ده) خبردار شئ بيشكه دا (كفار دوه قته كوى) تاووى سينى خپلى (او پټوى عداوت د رسول په زړونو خپلو كښى) لپاره د دى چه پټ كړى (دا عداوت) له الله نه، واورئ خبردار شئ په هغه وقت كښى چه واغوندى دوى جامى خپلى عالم دى (الله) په هغه څيز چه پټوى ئى دوى (په سينو خپلو كښى) او هغه څيز چه ښكاروى ئى په ژبو خپلو) بيشكه الله ښه خبردار دى په پټو خبرو د سينو (هم)

**تفسير:** د سزا وركولو لپاره دغه خبره ضرورى ده چه مجرم حاضر وى، حاكم ته د سزا وركولو پوره قدرت او قوت او كامل اختيار حاصل وى. مجرمينو ته پر ګردو(تولو) كارونو او اجراآتو ئى علم حاصل وى. په «اليه مرجعكم» كښى دا راښوولى شوى دى چه مجرم او غير مجرم ګرد(تول) د پاک الله په دربار كښى حاضرېږى. په «وهو علىٰ كل شى قدير» كښى ئى د عمومى قدرت او اختيار بيان ئى فرمايلى دى او د «الا انهم يثنون» څخه تر «بذات الصدور» پورى د ده د محيط علم وسعت ظاهر شوى دى چه پر پاک الله ظاهرى او باطنى ګردى (تولى) خبرى يو شان ته ظاهرى او هيڅ يو شى ترى پټ نه دى. او پر هر شى باندى ښه پوه او خبردار دى، تر دى پورى چه د زړونو د كومى له پټو خبرو، نياتو او اراداتو څخه هم باخبر دى. نو بيا مجرم خپل جرم په څه دول(طريقه) له ده څخنى پټولى شى.

**تنبيه:** د دى آيتونو په شان نزول كښى مفسرين اختلاف لرى. ډير صحيح روايت د ابن عباس رضى الله تعالىٰ عنه څخه په «بخارى شريف» كښى شته چه پر ځينو مسلمانانو شرم او حياء دومره زياته غلبه كړى وه چه د استنجاء، جماع او نورو بشرى ضروررياتو په وقت كښى به د خپل بدن د كومى برخى د بربنډ پريښودلو څخه ډير زيات شرميدل چه پاک الله مو وينى. كه چيرى ځانونه ئى بربندول نو د حياء د غلبى لامله(له وجى) به پرمخى لويدل او خپل غليظه عورت به ئى په دى دول(طريقه) سره پټاوه چه خپله سينه به ئى پرى تاووله. كله كله داسى آثار د غايت تأدب مع الله او د حياء د غلبى لامله(له وجى) كيدئ شى داسى كسانو ته د «صوفيه ؤ» په اصطلاح كښى «مغلوب الحال» وائى. څرنګه چه د صحابه ؤ رضى الله عنهم په كومه مسئله كښى داسى غلو او تعمق راتلونكى ملت په ضيق او حرج كښى اخته او مبتلا كولى شو. نو ځكه لوى قرآن په «الا حين يستغشون ثيابهم» د دوى اصلاح وفرمايله يعنى كه د ضرورت په وقت كښى د بدن د بربندولو لامله(له وجى) له الله تعالىٰ څخه شرميږئ نو ځكه خپل تترونه(سينى) پرى ښكته كوى نو غور وكړئ چه په دغه حالت كښى چه ډير كالى (جامى) مو آغوستى او ښه مو ځانونه پټ كړى وى نو آيا ستاسى پټ او ښكاره او نور د پاک الله څخنى پټ دى؟ كله چه د انسان هيڅ شى په هيڅ وقت كښى او په هيڅ دول(طريقه) له الله تعالىٰ څخنى نشى پټيدلى نو بيا د

بشرى ضرورياتو په وقت کښې له دومره غلو شخه کار آخيستل ښه کار نه دى. واضح دى وى چه د آيتونو په ربط کښى دغه خبره ضرورى ده چه د يوه آيت مضمون د بل آيت له مضمونه سره مناسبت ولرى او د نزول د سبب سره ئى مناسبت ضرورى نه دى.

وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا وَيَعْلَمُ مُسْتَقَرَّهَا وَمُسْتَوْدَعَهَا كُلٌّ فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ ⑥

او نشته هیڅ تلونکی (خوځیدونکی ذی روح) په ځمکه کښې مګر چه دی پر الله رزق (روزی) د هغه (تفضلاً ترحمأنه وجوباً) او عالم دی (الله) په ځای د اوسیدلو د هغه او ځای د سپاریدلو د هغه، ټول (دا مذکوره اشیاء) په کتاب واضح کښې دی.

**تفسیر:** رومبی د الله تعالیٰ د علم د وسعت بیان ؤ. دا د همغه مضمون تکمله ده یعنی پر ځمکه د هر ساکښ (ذی روح) تلونکی او خوځیدونکی چه طعام او خوړو ته احتیاج لری، د هغو د ګردو (ټولو) رزق او روزی رسول پاک الله محض پخپل فضل او کرم سره پخپله ذمه لازمه فرمایلې ده. هومره روزی چه د هر یوه لپاره مقدره ده، هغه یقیناً وررسیدونکی ده هغه وسائل او اسباب چه بنده ئی اختیاروی ګرد (ټول) د روزی رسولو ابواب او ورونه دی، که د انسان نظر د اسبابو او د تدابیرو د اختیارولو په وقت کښې پر مسبب الاسباب جل وعلیٰ شانه وی، نو دغه له توکل سره څه منافات نه لری. هو د الله تعالیٰ قدرت په دغو عادیهؤ اسبابو کښې محصور او مقید ونه ګڼه شی. ځکه چه الله تعالیٰ کله نا کله برته (علاوه) د اسبابو له سلسلې هم روزی رسوی او څه نه څه یو کار برابروی. په هر حال کله چه د ګردو (ټولو) ذوی‌الارواحو (روح لرونکی) او ساکښانو (جاندارو) معاش د هغو د غذا او خوړو د استعداد سره سم مهیا کول د حق تعالیٰ کار دی، نو ضروری ده چه د پاک الله علم پر هغو ګردو (ټولو) محیط وی. که نه د دوی له روزی رسولو څخه خبریدل به څنګه ممکن کیدی شی؟

﴿ وَيَعْلَمُ مُسْتَقَرَّهَا ﴾ الآیة - او عالم دی الله په ځای د اوسیدلو د هغه او ځای د سپاریدلو د هغه) حضرت شاه صاحب لیکی «مستقر» هغه ځای دی چه هستوګنه پکښې کیږی، لکه جنت او دوزخ او «مستودع» هغه ځای دی چه انسان پکښې سپارل کیږی، لکه قبر، پاس په «وما من دآبة» الآیة ـ کښې د دنیوی ژوندون بیان ؤ، دلته د «برزخ» او د آخرت بیان دی، مطلب داسې شو چه الله تعالیٰ ته له ابتداء څخه تر انتها پوری ستاسې د ژوندون ټول درجات معلوم او ښکاره دی او دی ښه خبردار دی . د «مستقر» او د «مستودع» په تعیین کښې د مفسرینو ډیر اقوال دی. چه د هغه په نسبت موږ د الانعام په سورت کښې څه لیکلی دی. ابن کثیر رحمة الله علیه لیکلی دی تر هغه پوری چه انسان په ځمکه کښې ګرځی او خوځیږی نو د ده د سیر منتهاء ته «مستقر» او د ګرځیدلو او تللو په پای (آخر) کښې د هستوګنې کوم ځای ته چه راځی هغه ته «مستودع» وائی. د ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه په نزد په دغه ژوندون کښې هر چیری چه

انسان اوسیږی هغه «مستقر» او له موت څخه وروسته چیری چه خښیږی هغه «مستودع» دی. مجاهد رحمة الله علیه له «مستقر» څخه د مور رحم او له «مستودع» څخه د پلار صلب مراد کړی دی.
عطاء رحمة الله علیه د دی تعبیر په عکس سره دعوی کړی ده د ځینو متفلسفینو (فلسفه خیالو) خیال دا دی چه په ځمکه کښی د حیواناتو هغه مسکن چه بالفعل دی، هغه «مستقر» او له فعلی وجود څخه پخوا هغه مواد او مقار (قرار ګاوی) چه پاتی شوی دی او بیا له هغه ځایه راغلی دی هغه «مستودع» ویلی شوی دی یعنی حق تعالیٰ پر هغو ګردو (تولو) مختلفو موادو او اطوارو او ادوارو پوه او عالم دی، چه له هغو ځنی کوم حیوان تیر شوی، او خپل دغه موجوده کذائی هیئت پوری رسیدلی دی همغه پاک الله پخپل محیط علم سره د وجود په هره مرتبه کښی هغه ته د هغه د استعداد سره مناسب وجود او د وجود په کمالاتو ئی فائض کوی.
﴿ كُلٌّ فِي كِتَٰبٍ مُّبِينٍ ﴾ تول دا مذکوره اشیاء په کتاب واضح کښی دی) یعنی په لوح محفوظ کښی چه د الله تعالیٰ د علم صحیفی دی، نو بیا د الله تعالیٰ په علم کښی به هر شی ولی نه وی چه علیم برحق او خبیر مطلق دی.

---

وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ وَكَانَ عَرْشُهُۥ عَلَى الْمَآءِ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ۗ وَلَئِن قُلْتَ إِنَّكُم مَّبْعُوثُونَ مِنۢ بَعْدِ الْمَوْتِ لَيَقُولَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ۝٧

---

او دغه (الله) هغه ذات دی چه پیدا کړی ئی دی آسمانونه او ځمکه په (مقدار د) شپږو ورځو کښی حال دا چه ؤ عرش (تخت) د ده پر اوبو (پیدا کړی دی الله دا تول آسمانونه او ځمکه او ما فیهما لپاره د منافعو ستاسی او) لپاره د دی چه وازمویی تاسی چه کوم یو له تاسی ډیر ښه دی له جهته د عمل، او قسم دی چه خامخا که ووائی ته (خپل قوم ته) چه بیشکه تاسی بیا ژوندی کیدونکی یئ پس له مرګه نو هرومرو (خامخا) وبه وائی خامخا هغه کسان چه کافران شوی دی چه نه دی دغه (قرآن چه بیا ژوندون وائی) مګر سحر (جادو) ښکاره.

---

**تفسیر:** په پیدائښت د آسمانونو او ځمکه کښی د الله تعالیٰ له علم څخه وروسته د ده د قدرت بیان دی د دی تفسیر په ۸ جزء د الاعراف په (٥٤) آیة (۷) رکوع کښی تیر شوی دی.
﴿ وَكَانَ عَرْشُهُۥ عَلَى الْمَآءِ ﴾ حال دا چه ؤ عرش د ده د لا پخوا له پیدا کیدلو د ځمکی او آسمانونو پر اوبو باندی) یعنی د ځمکی او آسمان له پیدا کولو څخه پخوا اوبه مخلوق شوی چه

په مستقبل کښې د ګردو (ټولو) اشیاؤ د ژوندانه ماده ګرځیدونکی شوی «وجعلنا من الماء کل شئ حی» (١٧ جزء د الانبیاء (٣٠) آية (٣) رکوع) په دغه وقت کښې د الله تعالیٰ عرش د دی د پاسه ؤ لکه چه اوس د آسمانونو د پاسه دی. ګواکی دغه یو صورت ؤ چه دغه حقیقت ئی ښکاروه چه د کائناتو ماده او د حیات ذریعه بالکلیه د ربالعرش تر تسلط او تصرف او مطلقه قیومیت لاندی دی والله اعلم.

یعنی د دی ګرد (ټول) نظام له تخلیق او ترتیب څخه مقصود ستاسی دلته ودانول او ازمویل دی. چه تاسی تر کوم ځای پوری په دغه عجیب او غریب نظام او د مصنوعاتو په سلسله کښې غور او فکر کوئ؟ او د هغوی د حقیقی خالق او مالک صحیح معرفت ځان ته حاصلوئ؟ او له ارضی او سماوی مخلوقاتو څخه منتفع کیږئ؟ او د محسن د پیژندلو او شکر کولو فطری فرض په ځای راوړئ؟ دغه مقام ستاسی د سختی ازموینی ځای دی، ستاسی حقیقی مالک مو ګوری چه په تاسی کښې کوم یو بنده د صدق او اخلاص او سلیقی د مخی ښه کار کوی؟ او د خپل عبودیت فرایض په ښه شانی انجاموی؟ کله چه دغه دنیا د امتحان او ازموینی ځای دی نو ضروری ده چه وروسته له هغه د مجازاتو (یعنی د انعامونو او انتقامونو) سلسله هم وی څو شاکرینو او کافرینو دواړو ته د دوی د اعمالو نتائج ور ورسیږی. نو ځکه دلته د بعث بعد الموت ذکر کړی شوی دی. یعنی د مکی معظمی کفار چه مشرکان دی یقین نه کوی چه وروسته له مرګه بیا ژوندون شته، او دوی ته د دوی د اعمالو او جرائمو سزا خامخا ورکوله کیږی کله چه دوی په قرآن کښې یا د رسول الله له ژبی د «بعث بعد الموت» نهایت مؤثر بیان آوری، نو وائی چه دا بیان ستاسی ښکاره جادو دی، چه له هغه ځنی دیر کسان ویریږی، او مرعوب او مسحور کیږی. مګر په یاد ئی ولرئ چه پر مونږ له سره دغه جادو نه چلیږی، او نه څه اثر راپوری کوی (ابن کثیر رحمة الله علیه).

وَلَئِنْ أَخَّرْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ إِلَىٰ أُمَّةٍ مَّعْدُودَةٍ لَّيَقُولُنَّ مَا يَحْبِسُهُ ۗ أَلَا يَوْمَ يَأْتِيهِمْ لَيْسَ مَصْرُوفًا عَنْهُمْ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿٨﴾

او قسم دی چه خامخا که وروستی کړو مونږ له دوی څخه (هغه) عذاب (چه موعود دی) تر راتلو د اوقاتو شمیرلیو شویو (لږو) پوری نو هرومرو (خامخا) به وائی دوی (استهزاءً) څه خیز بند کړی دی دا (عذاب له نزوله نو فرمائی الله) خبردار شئ واورئ، هغه ورځ چه راشی دا (عذاب) دوی ته نو نه به وی (دا عذاب) دفع کړی شوی له دوی څخه او چاپیر به شی له دوی نه هغه

عذاب چه وو دوی چه په هغه پوری به ئی مسخری کولی (او په جلتی به ئی غوښت)

**تفسیر:** یعنی کله چه دغو کفارو ته د دوی د شرارتونو له سببه د الله تعالیٰ له عذابه ویره ورکوله کیږی نو د تکذیب او استهزاء په ډول (طریقه) وائی چه راوړه هغه عذاب دی چیری دی؟ ولی نه رانازلیږی؟ او د څه لامله (له وجی) پکښی (ایسارتیا) ځنډ کیږی؟ او د چا له لوری هغه ستون شوی دی؟ نو پاک الله فرمائی چه آیا تاسی په داسی ویناؤ سره توکی او مسخری کوئ؟ او نه پوهیږئ چه هغه عذاب د الله تعالیٰ د حکمت او مصلحت په اقتضاء تر یوه تاکلی (مقرر کړی) مدت پوری معطل شوی دی؟ او پخپل معین وقت کښی به خامخا داسی در ورسیږی چه هیڅوک به ئی مخه نشی نیولی او له هری لوری څخه به په عذاب چار چاپیر کړی شئ، او ګرد (تول) به فنا کیږئ.

وَلَئِنْ أَذَقْنَا الْإِنسَانَ مِنَّا رَحْمَةً ثُمَّ نَزَعْنَاهَا مِنْهُ إِنَّهُ لَيَئُوسٌ كَفُورٌ ﴿٩﴾

او قسم دی خامخا که وروځکوو موږ (کافر یا ناشکر انسان) ته له نزده خپله رحمت (لکه صحت او نعمت چه اثر ئی ښکاره وی) بیا بیرته راتول کړو موږ دا نعمت له ده نه، بیشکه دی خامخا نا امیده (له کرمه د الله) ناشکره (له نعمته د الله) وی.

**تفسیر:** یعنی اوس وائی چه عذاب چیری دی؟ او ولی نه راځی؟ او ولی بنی‌آدم دومره ساده او بی زړه او ویریدونکی دی، چه که د څو ورځو له مخی ئی الله تعالیٰ د خپلی مهربانی په عیش او عشرت او آرامی کښی وساتی، او بیا ئی په کوم ربړ (زحمت) او تکلیف کښی اخته او مبتلا کړی، نو دی هغه پخوانی هوسائی (آرام) او مهربانی هم بیخی له زړه وباسی او هیروی ئی، او بی هیلی (مایوسه) او نا امیده کیږی، او د مستقبل په نسبت بیخی بی آسره او مایوس کیږی، په تیره باندی ناشکری، او له راتلونکی څخه مایوسی، هم دا د ده د ژوندون حاصل دی.

وَلَئِنْ أَذَقْنَاهُ نَعْمَاءَ بَعْدَ ضَرَّاءَ مَسَّتْهُ لَيَقُولَنَّ ذَهَبَ السَّيِّئَاتُ عَنِّي ۚ إِنَّهُ لَفَرِحٌ فَخُورٌ ﴿١٠﴾

او قسم دی خامخا که وروځکوو موږ دغه (کافر یا ناشکره انسان) ته نعمت (لکه صحت او هوسائی (آرام)) وروسته له (هغه) ضرره چه رسیدلی ؤ ده ته

نو هرومرو (خامخا) وائی به دی خامخا لاړی سختی (چه رارسیدلی وی) له ما څخنی، بیشکه دغه (انسان) خامخا خوشالیدونکی دی (پر نعمتونو) متکبر فخر کوونکی دی (پر خلقو)

**تفسیر:** یعنی که له مصیبته وروسته بیا پاک الله ده ته آرامی او هوسائی (راحت) ور په برخه کړی نو بیا داسی ګڼی چه ګواکی اوس بیخی مصائبو او تکالیفو خاتمه موندله، او بیا هغه پخوانی کیفیت له سره راتلونکی نه دی. نو په دغه وقت کښی د غفلت او غرور په نشو کښی مستیږی، او فخر او تکبر او ځانمنی (خودنمائی) کوی. او حال دا چه ده لره داسی په کار ؤ چه هغه خپل پخوانی حالت به ئی تل په یاد درلود (لرلو) او د الله تعالیٰ شکر به ئی اداء او د ده د لطف او احسان په مقابل کښی به ئی د تواضع سر ښکته کوه.

إِلَّا الَّذِينَ صَبَرُوا وَعَمِلُوا الصَّٰلِحَٰتِ أُولَٰٓئِكَ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ ﴿١١﴾

مګر هغه کسان چه صبر کوی (په سختی له قوته د ایمان) او کوی ښه (عملونه دپاره د شکر د نعمت)، دغه (صابرین او شاکرین) شته دوی ته مغفرت (د ګناهونو) او اجر (ثواب) ډیر لوی.

**تفسیر:** هغه حال چه پاس د عامو انسانانو بیان وشو، له هغه څخنی د الله تعالیٰ هغه بندګان مستثنیٰ دی چه د تکلیف او مصیبت مقابله په صبر او استقامت سره کوی، او د امن او راحت په وقت کښی سره له شکر ایستلو په صالحه ؤ اعمالو کښی هم خپله مستعدی ښکاروی د هم داسی اولوالعزمو او وفادارانو تولی د عظیم الشان بخشش او انعام مستحق دی او په ډیر لوی اجر چه ادنیٰ ئی جنت او اعلیٰ ئی دیدار دی فائز کیږی.

مؤمنان په آخرت له خلده حوره
سر تر پایه (آخره) نعمتونو کښی معموره
نه به ئی درد نه به ئی مرګ نه به خفګان وی
دوی به تل وی لذتونو کښی مخموره
چه لقاء د پاک الله دوی ته ښکاره شی
نو د خلد حوری به ئی ووځی له شعوره

فَلَعَلَّكَ تَارِكٌۢ بَعْضَ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيْكَ وَضَآئِقٌۢ بِهِۦ

صَدْرُكَ أَنْ يَّقُوْلُوْا لَوْلَآ أُنْزِلَ عَلَيْهِ كَنْزٌ أَوْجَآءَ مَعَهٗ مَلَكٌ ۭ اِنَّمَآ اَنْتَ نَذِيْرٌ ۭ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ وَّكِيْلٌ ﴿۱۲﴾

نو ښائی ته به پرېښودونکی ئی (یعنی مه پرېږده) ځینی د هغه قرآنه چه وحی کولی شی تاته او تنګیدونکی ده په (تبلیغ د) هغه سره سینه (زړه) ستا (له دی ویری) چه وائی به دوی ولی نه ده نازله شوی په ده باندی خزانه (چه پری وکړی عشرت) یا (ولی نه ده) راغلی له ده سره پرښته (چه ورکړی شهادت د نبوت)، بیشکه هم دا خبره ده چه ته ویروونکی ئی (له جحیمه نه څارونکی د اعمالو د دوی)، او الله پر هر شی باندی وکیل (ښه ساتونکی) دی (د هغه چا چه ور وسپاری ځان خپل نو له سره مه ویرېږه له عناد د دوی نه).

**تفسیر:** د مکی معظمی مشرکان د شرک او بت پرستی له تردیده او بدو ویلو څخه ډیر په قهریدل او په غیظ او غضب راتلل د مشرکیت پر خرافاتو په هره اندازه چه د هغو تحمیق (حماقت) او تجهیل کیده، په همغه اندازه به دوی د غصی په اور کښی سوځیدل کله به ئی کوښښ کوه چه پاک رسول په دغی معاملی کښی لږ څه سست او پوست شی او د دغی اساسی او لوئی مسئلی په تبلیغ کښی له لږ څه نرمی او تساهل څخه دی کار واخلی. کله چه له دی لوری مایوس او بی‌هیلی (نامیده) شول نو تش د ربړولو (تکلیفولو) او محض خفه کولو دپاره په عجیبو چتی (بیکاره) غوښتنو پسی لګیا شول، مثلاً ویل به ئی چه ته خو رښتین او د رسالت پر منصب مامور ئی، نو له تا سره د پاک الله له درباره ښائی چه د مال او دولت لویه خزانه راغلی وی یا له آسمانه له تا سره یوه پرښته راتلی چه هر چیری به درسره د تصدیق دپاره تللی وی ﴿ لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَیْهِ کَنْزٌ اَوْجَآءَ مَعَهٗ مَلَكٌ ﴾ کله چه ته د خپلو خبرو د تصدیق او ښکارولو دپاره نه د مادی قوت او نه د روحانی قدرت خاوند ئی، نو بیا ئی مونږ څرنګه ومنو؟ رسول الله مبارک له داسی چتی (فضول) او بیکاره غوښتنو څخه ډیر زیات مغموم او متأثر کیده. امکان لری چه کله ئی داسی کوم خیال هم په زړه کښی تیر شوی وی چه که د دوی د معبودانو په حق کښی د پاک الله له لوری د دومره سختی اختیارولو په ځای موقتاً د لږ څه نرمی او مساهلی حکم شوی وی نو ښائیږی چه اوس دغه د نرمی وضعیت زیات مؤثر او مفید واقع شی. یا دغه غوښتنی چه دغه خلق ئی راڅخه کوی، که د دوی دغه ضد هم تر یوه حده پوری پوره کړ شی، نو امکان لری چه دوی هم مسلمانان شی. په هر حال دغه داسی نازک او پرخطر وقت ؤ چه ګرده (توله) دنیا د باطل پرستی له شورماشور ځنی ډکه وه او ګرد (تول) مشرکین په ملاهی او مناهی بوخت (مشغول) او لګیا ؤ او تول ورته هک پک ؤ. صرف یو مقدس ذات ؤ چه د ده له حلقوم څخه د حق غږ پورته کیده او د هغه په اثر د شرک او کفر او باطل تینګی کلاوی ګردی (تولی) سره

خوځیدی. دوی له ځلورو خواوو د موذی دښمنانو په احاطه او چمبو کښی لویدلی وو. ځینو به دروغجن باله، ځینو به پری طعنی ویلی او ځینو به پری توکی او مسخری کولی. تاسی د هسی یو کثیف او مکدر محیط تصور وکړئ او بیا د هغه اعظم مبلغ د زړه قوت او لوی، همت او ستر قوت او ښه میړانه (بهادری) اندازه کړئ چه اعتماد او اتکال ئی له ظاهری اسبابو څخه لری شوی وو، او کامل او بیخی د الله قدوس پر وعدو پوری ئی توکل او اعتماد وو دی هر وقت چه خفه او محزون کیده نو یوائحی د پاک الله په غیږ سره ئی تسلی او اطمینان مونده. او د ګردی (تولی) دنیا په مقابل کښی تازه دم دریده. په هم دغی سلسلی کښی دغه آیتونه نازل شول چه حاصل ئی دا دی «ته د دی خلقو د دغو چتی (فضول) او بیکاره غوښتنو لامله (له وجی) مه غمجن او مه فکرجن او مه خفه کیږه او مه پخپل زړه کښی د دغو خلقو د خاطر او مراعاتو خیال وګرځوه! کله داسی کیدی شی، هغه شیان چه د الٰهی وحی تاته درښوولی دی او د هغه د تبلیغ حکم ئی بی خوفه او بی خطره درکړی دی چه ته د هغه ځینی برخی د دی خلقو له خرافاتو څخه تنګ زړه شوی پریږدی حال دا چه دغه کار امکان نه لری ځکه چه د نبوت عصمت او د اولوالعزمی صفت ئی مانع دی نو بیا له زړه تنګی څخه څه فائده؟ ستاسی کار تش له خیر او شر څخه خبرول دی. د دوی د هدایت ذمه واری پر تاسی نه ده، د دوی دغه معامله هم هغه الله تعالیٰ ته وروسپاره چه ګرد (تول) شیان هغه ته سپارلي شوی او د ده په واک (اختیار) کښی دی او د صبر او استقامت سره د تبلیغ د فرائضو په انجام کښی مستقیم او ثابت قدمه اوسه.

أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ ۖ قُلْ فَأْتُوا بِعَشْرِ سُوَرٍ مِّثْلِهِ مُفْتَرَيَاتٍ وَادْعُوا مَنِ اسْتَطَعْتُم مِّن دُونِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿١٣﴾ فَإِلَّمْ يَسْتَجِيبُوا لَكُمْ فَاعْلَمُوا أَنَّمَا أُنزِلَ بِعِلْمِ اللَّهِ وَأَن لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ فَهَلْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿١٤﴾

بلکه آیا وائی دوی چه له خپله ځانه جوړ کړی دی (محمد) دا (قرآن چه تصدیق ئی وکړی)؟ووایه (ای محمده! دوی ته) نو راوړئ تاسی لس سورتونه په شان د یوه سورت د ده (فصیح بلیغ) له خپل ځانه جوړ کړی شوی او راوبولئ هغه کسان چه توانیږئ تاسی (دپاره د کومک) غیر له الله څخه که یئ تاسی صادقان (رښتینی په دغی ادعا د افتراء کښی). نو که جواب درنه کړ دوی تاسی ته (ای رسوله او مسلمانانو) نو پوه شئ (ای مسلمانانو) چه بیشکه هم دا خبره ده چه رالیږلی شوی دی (قرآن) په علم د الله سره (د بنده کلام نه دی) او (بل پوه شئ په یقین سره او پری ثابت پاتی شئ) چه نشته هیڅ لایق د عبادت مګر هم دی، نو آیا یئ تاسی مسلمانان (غاړه

ایښودونکی اسلام ته بلکه راسخ اوسئ په اسلام)

**تفسیر:** ځینو مفسرینو د دی آیت ترجمه داسی هم کړی ده «نو که جواب در نه کړ دغو بللو شویو تاسو ته ای مشرکینو! نو پوه شئ ای کفارو چه بیشکه هم دا خبره ده چه رالیږلی شوی دی دا قرآن په علم د الله سره د بنده کلام نه دی او پوه شئ تاسی په یقین سره چه نشته لائق د عبادت هیڅوک مګر هم دی، آیا نو یئ تاسی مسلمانان غاړه ایښودونکی اسلام ته بلکه اسلام راوړئ! یعنی فرمائشی معجزی غواړی، چه د هغو ورکول مصلحت نه دی، او له هغو ګردو (تولو) ځنی لویه معجزه قرآن چه د دوی په مخ کښی دی نه منی. او وائی (معاذالله) دغه خو له خپله ځانه جوړی کړی خبری دی، نو د هغه ځواب ورکوی چه آخر تاسی هم عرب او د فصاحت او بلاغت دعوی کوونکی یئ، ګرد (تول) سره راتول شئ! او د دی پاک قرآن د لسو سورتونو په شان نور سورتونه له خپله ځانه جوړ کړئ. او په دغه کار کښی د خپلی مرستی (مدد) دپاره ګرد (تول) مخلوقات بلکه خپل هغه معبودان هم راوبولئ، چه تاسی ئی په الوهیت کښی شریکان ګڼئ او که ونه کړی شئ، او له سره به ونه کړی شی، نو وپوهیږئ چه داسی کلام یواځی د پاک الله کلام کیدی شی، چه د هغه له مثل راوړلو څخه ګرد (تول) مخلوقات عاجز پاتی کیږی.
یقیناً په واقع سره دا هغه مبارک کلام دی چه پاک الله پخپل کامل علم سره پر خپل رسول نازل فرمایلی دی. بیشکه هغه ذات چه د کلام مثل ئی نشی پیدا کیدی، نو د ده په ذات او صفاتو کښی څوک شریک کیدی شی داسی بی مثله کلام د هغه بی مثاله الله تعالیٰ کلام دی چه هیڅ سیال او شریک نه لری. آیا له داسی واضحه و دلائلو څخه وروسته به مسلمان کیدلو او حکم منلو کښی د کوم شی په انتظار کښی یئ؟.
**تنبیه:** د اعجازالقرآن څه تفصیل د یونس علیه السلام په سورت کښی لیکلی شوی دی. په ابتداء کښی د پوره قرآن تحدی ورکړی شوی وه، بیا د لسو سورتونو وشوه بیا د یوه سورت لکه چه د «البقرة» د سورت په ۲ رکوع او د «یونس» د سورت په ۳ رکوع کښی تیر شو ګواکی د دوی عجز په تدریج سره ښکاره کړی شوی دی.

مَن كَانَ يُرِيدُ الْحَيَوٰةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيْهِمْ أَعْمَالَهُمْ فِيهَا وَهُمْ فِيهَا لَا يُبْخَسُونَ ﴿١٥﴾

هر څوک چه وی (له خپلی کم همتی) چه غواړی یواځی ژوندون لږ خسیس او ښائست د ده (او د آخرت فکر نه کوی) نو پوره به ورکړو دوی ته (بدل د) اعمالو د دوی په دی دنیا کښی حال دا چه دوی په دی دنیا کښی نه شی کم کیدلی (له بدل د اعمالو د دوی هیڅ شی)

**تفسیر:** یعنی له داسی واضح ثبوت څخه وروسته څوک چه په قرآن ایمان نه راوړی، یا د هغه پر ښوولی لاری نه ځی. بلکه د دنیا څو ورځی ژوندون او فانی دول او سینګار ئی د خپل مقصود قبله درولی وی، او عملی جداوجهد ورته کوی. که په ښکاره کوم نیک کار لکه خیرات او نور کوی، نو له هغه څخه هم د آخرت بهتری او د الله تعالیٰ خوښی مقصود نه وی، او یواځی د دنیوی فوائدو حاصلول ئی تر سترګو لاندی وی، د داسی خلقو په نسبت اعم له دی چه یهود وی که نصاریٰ مشرکین وی که منافقین یا دنیا خوښوونکی ریاکار مسلمانان. دا ئ راښوولی دی چه په دنیا کښی د دغو ګردو (تولو) معامله پای (آخر) ته رسولی شی. هغه اعمال او کوښښونه چه دوی ئی د دنیا د حصول دپاره اراده وفرمائی ورعطا کوی ئی. له احادیثو څخه معلومیږی چه کافران چه څه خیرات او مبرات وکړی نو د دوی دغه فانی او صوری حسنات چه د ایمان له روح څخنی بیخی خالی دی، په دنیا کښی تش او ویریا نه ځی. د هغه په بدل کښی به پاک الله ورته صحت، مال، دولت، عزت حکومت او نور ورکوی، او ګردی (تولی) مطالبی او غوښتنی ئی هم دلته پای (آخر) ته رسیږی. او له مړ کیدلو څخه وروسته په بل ژوندون کښی د هغه هیڅ یو شی ئی په کار راتلونکی نه دی. د هر کافر دپاره هره سزا او د مجازاتو هره درجه چه تاکلی (مقرر کړی) شوی وی هغه به بی له تزئیده او تنقیصه برابره وررسیږی

﴿ مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهُ فِيهَا مَا نَشَاءُ لِمَنْ نُرِيدُ ثُمَّ جَعَلْنَا لَهُ جَهَنَّمَ يَصْلَاهَا مَذْمُومًا مَدْحُورًا ﴾

(۱۵ جزء د بنی اسرائیل (۱۸) آیت ۲ رکوع) د ریاکار دنیا خوښوونکی عالم، مجاهد او متصدق په حق کښی کوم وعید چه راغلی دی، د هغه حاصل هم دغه دی. چه هغو ته به په محشر کښی وویلی شی د هغه غرض او مقصد دپاره چه تا علم زده کړی ؤ، یا صدقه او جهاد دی کړی ؤ هغه خو په دنیا کښی درحاصل شوی دی. اوس له ماسره ستا هیڅ برخه نشته او پرښتو ته به وویل شی چه هغه دی په دوزخ کښی وغورځوی اعاذنا الله منها.

---

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَيْسَ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ إِلَّا النَّارُ ۖ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوا فِيهَا وَبَاطِلٌ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٦﴾

---

دا هغه کسان دی چه نشته دوی ته په آخرت کښی مګر اور (د دوزخ) او خراب (ابته) شوی دی هغه (نیک عمل) چه کړی ؤ دوی په دی دنیا کښی او باطل دی (په آخرت کښی) هغه عمل چه وو دوی چه کوو به ئی (په دنیا کښی).

---

**تفسیر:** یعنی پر دغو اعمالو پرته (علاوه) له دوزخه د بل کوم شی مستحق نه دی. کفار په ابدی

صورت او رياکاران مسلمانان به تر محدوده مدت پورې په دوزخ کښې پاتې کيږي. هو! که الله تعالىٰ ځنې مؤمنان محض پخپل فضل او کرم سره وبښي، نو هغه بيله خبره ده.
(او خراب شو هغه نيک عمل چه کړي ؤ دوی په دنيا کښې او باطل دی هغه کار چه وو دوی چه کاوه به ئی) يعنې په دنيا کښې کوم کارونه چه تاسې د دنيوی اغراضو دپاره کړي ؤ وروسته د آخرت له رسيدلو څخه درشکاريږي چه هغه ابته (خراب) او برباد تللي دی، او د رياکارۍ او د دنيا خوښولو په سلسله کښې ظاهراً هغه نيکي او محاسن چه کړي ئی وی هغه ګرد (تول) سره خراب او توی ځی او هلته به ئی هيڅ يو شي په کار نه ورځی.

أَفَمَنْ كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّهِۦ وَيَتْلُوهُ شَاهِدٌ مِّنْهُ وَمِن قَبْلِهِۦ كِتَٰبُ مُوسَىٰٓ إِمَامًا وَرَحْمَةً ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ يُؤْمِنُونَ بِهِۦ ۚ وَمَن يَكْفُرْ بِهِۦ مِنَ ٱلْأَحْزَابِ فَٱلنَّارُ مَوْعِدُهُۥ ۚ فَلَا تَكُ فِى مِرْيَةٍ مِّنْهُ ۚ إِنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٧﴾

آيا پس هغه څوک چه دی پر صاف برهان (واضح عقلی دليل) له جانبه د رب خپل او تابع وی د دی (برهان) پسې شاهد له (جانبه) د الله او پخوا له دی (شاهده چه قرآن دی) کتاب د موسىٰ (توريت شاهد ؤ) په دی حال کښې چه پيشوا او رحمت ؤ، (مؤمنانو ته دغه توريت ايا هغوی د دنيا غوښتونکو سره برابر دی؟ بلکه نه دی برابر، دغه خاوندان د برهان) دغه کسان ايمان لری په دی (قرآن)، او هر څوک چه کافر شو په دی (قرآن) له ګردو (تولو) فرقو (د کافرو) څخه نو اور (د دوزخ) ځای د وعدی د هغه دی (چه خامخا ورته ورځی) نو مه کيږه په شک کښې له دی) قرآن يا موعد نه) بيشکه چه هغه حق دی له جانبه د رب ستا وليکن اکثر د خلقو نه راوړی ايمان (په دی خبره باندی چه منزل من الله دی).

**تفسير:** يعنې دغه سړی او هغه رياکار دنيا پرست چه پخوا ئی ذکر وشو څرنګه برابريدی شي؟ له سره نه دی برابر له «بينه ـ صافه لاره» څخه مراد هغه لاره ده چه هر انسان پخپل اصلی او صحيح فطرت سره موافق تلنه وغواړي. په دی شرط چه د اطرافو او حواليو له حالاتو او خيالاتو ځنې متأثر نشي او هغه د اسلام او د توحيد او د قرآن سمه لاره ده ﴿ فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا فِطْرَتَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ

﴿أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ﴾ (۲۱ جزء د الروم (۳۰) آیت (٤) رکوع) او په حدیث کښې راغلی دی «**کل مولود یولد علی الفطرة فابواه یهودانه او ینصرانه او یمجسانه - الحدیث**» او «شاهد منه» ګواه د پاک الله له لوری لوی قرآن دی چه ګواهی ورکوی چه د فطرت پر دین توحید او اسلام باندی تلونکی بیشکه پر سمه لاره تلونکی دی. او همغه قرآن چه پر خپل حقانیت باندی هم پخپله ګواه دی د لمر دلیل پخپله دی لمر.

څرنګه چه د پاک قرآن راوړونکی حضرت جبرئیل امین علیه السلام او آخیستونکی ئی حضرت محمد امین علیه السلام دی، نو په دغه اعتبار دغو دواړو ته هم شاهد ویلی شی بلکه پخپله د رسول الله مبارک شان دغه دی چه د ده اخلاق، عادات، معجزات، مبارکه ژبه، نورانی څیره او له نورو ګردو (تولو) شیانو څخه ئی معلومیږی او هر یو بیل بیل شهادت ورکوی. د هغه دین حامل چه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دی هغه حقیقتاً بیخی حق او رښتیا دی. وروسته د «ومن قبله کتاب موسیٰ اماما ورحمة» دغه مطلب دی چه پخوا له قرآنه هره وحی چه پر هر نبی راغلی ده هغه هم د فطرت د دین پر صداقت ګواه ده خصوصاً هغه عظیم‌الشان کتاب توریت چه پر موسیٰ علیه السلام نازل شوی دی پخوا له قرآنه هغه یو لوی شاهد د هغو خلقو پر حقانیت ښائی وویلی شی چه د فطرت د دین پر صافه لاره تلونکی دی.

﴿أُولَٰئِكَ يُؤْمِنُونَ بِهِ﴾ الآیة - دغه کسان چه په دلیل روان دی ایمان لری په دی قرآن الخ) یعنی یهود او نصاریٰ،بت پرست،عرب عجم،ایشیاء افریقا امریکا یورپ استریلیا او نور له هری فرقی او هر جماعت چه د هر ملک او ملت څخه وی، تر څو پاک قرآن ونه منی، نو له سره ئی نجات په برخه کیدی نشی لکه چه د صحیح مسلم او د نورو په احادیثو کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم په ډیره تصریح او تعمیم سره دغه بیان فرمایلی دی.

﴿فَلَا تَكُ فِي مِرْيَةٍ مِّنْهُ﴾ الآیة - نو مه کیږه ته په شک کښې له دی قرآن یا موعود څخه الخ) دغه خطاب هر هغه سری ته دی چه پاک قرآن آوری، یا خو ئی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته خطاب فرمایلی دی او ذاتاً د نورو خلقو او وګړو آورول مقصود دی چه د قرآن عظیم الشان په صداقت والی او منزل من الله والی کښې قطعاً د شک او شبهی ځای او ګنجائش نشته. نو هغه کسان ئی چه نه منی هغوی احمقان یا معاندان دی.

---

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا ۚ أُولَٰئِكَ يُعْرَضُونَ عَلَىٰ رَبِّهِمْ وَيَقُولُ الْأَشْهَادُ هَٰؤُلَاءِ الَّذِينَ كَذَبُوا عَلَىٰ رَبِّهِمْ ۚ أَلَا لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الظَّالِمِينَ ﴿١٨﴾ الَّذِينَ يَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا وَهُمْ بِالْآخِرَةِ هُمْ كَافِرُونَ ﴿١٩﴾

او څوک دی ډیر ظالم له هغه چا چه تړی له ځانه پر الله پوری دروغ (چه نسبت د ولد یا د شریک ورته کوی بلکه نشته)، دغه (دروغ تړونکی) وړاندی به کړل شی (په قیامت کښی) په رب د دوی او وبه وائی شاهدان (کرام الکاتبین او نور) چه هم دوی دی هغه کسان چه دروغ ئی تړلی وو په رب خپل (په نیولو د ولد او شریک سره، نو فرمائی الله) واورئ خبردار شئ لعنت د الله دی وی پر ظالمانو. هغه ظالمان (کافران) چه آړوی خلق له لاری (د دین) د الله او لټوی (ستائی) دا لاره خلقو ته په کوږوالی سره، او هم دوی په آخرت هم دوی کافران منکران کیدونکی دی.

**تفسیر:** یعنی پاک قرآن دروغ او افتراء نه دی، بلکه د پاک الله حق او رښتیا پیغام دی چه قبلول او منل ئی ضروری دی، او ښه وپوهیږئ چه له هغه سړی څخه زیات ظالم بل هیڅوک نشی کیدی چه پر الله تعالیٰ باندی دروغ وتړی، مثلاً که د الله کلام نه وی، او دی ووائی چه دغه د الله کلام دی یا واقعی د پاک الله کلام وی او پخپله الله تعالیٰ څو څو کرته وفرمائی چه دغه زما کلام دی. مګر دوی سره له روښانو دلائلو هغه دروغجن کوی، او در ګرده (تولو) هم دا وائی چه دا له سره د الله کلام نه دی.

﴿ أُولَٰئِكَ يُعْرَضُونَ عَلَىٰ رَبِّهِمْ ﴾ الآیة - دغه دروغ تړونکی به وړاندی کړی شی په قیامت کښی په رب د دوی) په محشر کښی کله چه دوی د پاک الله په مخ کښی علی رءوس الاشهاد وړاندی کیږی او د دوی د شرارتونو دفاتر پرانستلی شی نو په دغه وقت کښی شاهدی ورکوونکی (ملائکی، انبیاء، صالحین بلکه د دوی خپل لاسونه او پښی او رئیسه اعضاء) به ووائی چه دوی همغه بدبختان ظالمان دی چه د خپل پاک الله په نسبت ئی دروغ تړلی وو او چتی (بیکاره) خبری به ئی کولی.

﴿ أَلَا لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الظَّالِمِينَ ﴾ دا د حق تعالیٰ ارشاد دی. یعنی هغه خلق چه په ظلم او ناانصافی سره د الله تعالیٰ کلام دروغ ګنی او له ګردو (تولو) څنی زیات د آخرت منکران دی، او نور خلق د الله تعالیٰ له لاری څخه ستنوی (واپس کوی) او غواړی چه پری لاږ نشی، او په دغه تلاش او لټولو پسی لویدلی دی، چه دغه سمه صافه لاره کږه وږه ثابته او ورښکاره کړی، نو پر داسی ظالمانو باندی د پاک الله خصوصی لعنت دی.

أُولَٰئِكَ لَمْ يَكُونُوا مُعْجِزِينَ فِي الْأَرْضِ وَمَا كَانَ لَهُم مِّن دُونِ اللَّهِ مِنْ أَوْلِيَاءَ ۘ يُضَاعَفُ لَهُمُ الْعَذَابُ ۚ مَا كَانُوا يَسْتَطِيعُونَ السَّمْعَ وَمَا كَانُوا يُبْصِرُونَ ﴿٢٠﴾

دا کفار نه دی دوی عاجز کوونکی (د الله) په ځمکه (دنیا کښې په تیښته سره) او نه به وی دوی ته غیر له الله هیڅ دوستان (چه عذاب تری دفع کړی که اراده وفرمائی بلکه) دوچند به کړ شی دوی ته عذاب، نه وو دوی چه طاقت ئې وی د آوریدلو (د حق د زړه له کونوالی) او نه وو دوی چه لیدلی ئې وی (دلائل د قدرت د زړه له ړوندوالی).

**تفسير:** یعنی په دومره وسیعی او ارتی ځمکی کښې نه چیری تښتیدی شی. او نه په کوم ځای کښې پټیدی شی، او نه به ئې څوک مددګار او حمایت او مرسته (مدد) کوونکی کیدی شی. چه دوی د الله تعالیٰ له عذابه وژغوری (بچ کړی). ځکه چه دوی هم پخپله بی لاری او ګمراهان شوی دی، او هم نور خلق ئې ګمراهان کړی دی

﴿ مَا كَانُوا يَسْتَطِيعُونَ السَّمْعَ وَمَا كَانُوا يُبْصِرُونَ ﴾ نه وو دوی چه طاقت ئې وی د آوریدلو د حق د زړه له کونوالی او نه وو دوی چه لیدلی ئې وی دلائل د قدرت د زړه له ړوندوالی یعنی په دنیا کښې داسی ړانده او کاڼه شوی دی چه نه د حق د خبرو د اوریدلو توان لری او نه د الله تعالیٰ د قدرت دلائل او نښی لیدلی شی، چه د هغو په لیدلو سره ممکن دی چه د هدایت سمه صافه لاره ومومی.

حضرت شاه صاحب د دی مطلب داسی بیان کړی دی چه «دوی پر الله تعالیٰ باندی دروغ ویلی دی او بی اصله او فضول خبری ئې د ده په لوری منسوبی کړی دی یا ئې له کوم ځایه راوړی دی؟ له غیبه ئې نه دی آوریدلی او نه ئې له غیبه لیدلی دی، نو بیا د دوی ماخذ څه شی دی؟

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنفُسَهُمْ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿٢١﴾

هم دوی دی هغه کسان چه زیان ئې رسولی دی نفسونو (ځانونو) خپلو ته او ورک شول له دوی هغه چه وو دوی چه دروغ ئې تړل (چه بتان زمونږ شفاعت ګران دی)

**تفسير:** خپل ځان ته زیان پیښول دغه دی چه په ابدی او دائمی عذاب کښې اخته او ګرفتار شول او د دوی ګردی (تولی) دروغی دعاوی دلته نسیاً منسیاً او ورکی شوی دی.

لَا جَرَمَ أَنَّهُمْ فِي الْآخِرَةِ هُمُ الْأَخْسَرُونَ ﴿٢٢﴾ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا

الصّٰلِحٰتِ وَاَخْبَتُوْٓا اِلٰى رَبِّهِمْ ۙ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۲۳﴾

حقه خبره دا ده چه بیشکه دوی په آخرت کښې هم دوی ډیر زیانکاران دی (له نورو نه). بیشکه هغه کسان چه ایمان ئې راوړی دی او کړی ئې دی ښه (عملونه) او عاجزی کوی دوی رب خپل ته دغه کسان صاحبان (اوسیدونکی) د جنت دی، دوی به په دی جنت کښې همیشه وی.

**تفسیر:** د مجرمینو د بد انجامی او د خرابی خاتمی په مقابل کښې ئې د مؤمنینو انجام او حسن د خاتمی بیان وفرمایه، د دوی عجز او نیاز (خلوصیت او خصوصیت اطمینان او تجنب عن الغیر) د پاک الله خویش شو، نو ځکه د دائمی خوښی مقام ئې ورعطا کړ.

مَثَلُ الْفَرِيْقَيْنِ كَالْاَعْمٰى وَالْاَصَمِّ وَالْبَصِيْرِ وَالسَّمِيْعِ ۭ هَلْ يَسْتَوِيٰنِ مَثَلًا ۭ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۲۴﴾

مثال د دی دواړو فرقو (داسی دی) لکه د ړانده او د کانه او (لکه) د لیدونکی او د اوریدونکی، آیا برابر دی دغه دواړه له جهته د مثاله (او صفته؟ بلکه نه دی سره برابر)، آیا نو نه آخلئ پند تاسی؟ (په دغو مثالونو سره او فکر پکښې نه کوئ).

**تفسیر:** یعنی منکرین ړانده او کانه دی لکه چه دری آیته پخوا له دی نه ئې وفرمایل ﴿ مَا كَانُوْا يَسْتَطِيْعُوْنَ السَّمْعَ وَمَا كَانُوْا يُبْصِرُوْنَ ﴾ بیا هغه چه نه پخپله څه لیدلی شی، او نه له بل چا څخه څه شی اوریدلی شی. د دوی ابتداء او انتهاء د هغوی روڼ ضمیر له ایماندارانو سره څرنګه برابریدی شی هغه کسان چه د بصیرت په سترګو د حق او باطل او خیر او شر په منځ کښې تمیز کوی. او د خپلو هادیانو خبرو ته غوږونه نیولی غور وکړی چه د دواړو پای (آخر) او انجام څرنګه یو شان کیدی شی، بلکه نشی کیدی وروسته د حضرت نوح علیه السلام د قوم قصه د دی مضمون په تائید کښې وړاندی کوی.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ إِنِّي لَكُمْ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٢٥﴾ أَن لَّا تَعْبُدُوا إِلَّا
اللَّهَ إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ أَلِيمٍ ﴿٢٦﴾

او هرومرو (خامخا) په تحقيق ليږلی ؤ مونږ نوح قوم د ده ته (حال دا چه ويونکی ؤ) بيشکه زه تاسی ته يم ويروونکی (له جحيمه) ښکاره چه مه کوئ تاسی عبادت (د بل چا) بی له الله، بيشکه زه ويريږم پر تاسی له عذابه د ورځی دردناکی (د قيامته) څخه

**تفسير:** يعنی په نهايت وضاحت سره زه هغه شيان درښيم چه د هغو په ارتکاب سره د مهلک عذاب د نازليدلو انديښنه ده يا د هغه عذاب د محفوظيت ذرائع دی.
﴿ أَن لَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ ﴾ مه کوئ عبادت د بل چا بی له الله! يعنی د (ود) او (سواع) او (يغوث) او (يعوق) او (نسر) چه ذکر ئی د نوح عليه السلام په سورت کښی راځی عبادت پريږدئ! او د واحد احد الله تعالیٰ په عبادت کښی مشغول شئ! که نه د غير الله له عبادت څخه د بيرته نه گرځيدلو په صورت کښی د سخت عذاب د راتلو خوف دی. له دردناکی ورځی څخه هغه ورځ مراد ده چه پکښی د المناکو او درد پيدا کوونکو حوادثو وقوع وی مثلاً د قيامت ورځ يا هغه ورځ چه پکښی د نوح عليه السلام قوم ډوب او مغروق شو.

فَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَوْمِهِ مَا نَرَاكَ إِلَّا بَشَرًا مِّثْلَنَا وَمَا نَرَاكَ
اتَّبَعَكَ إِلَّا الَّذِينَ هُمْ أَرَاذِلُنَا بَادِيَ الرَّأْيِ وَمَا نَرَىٰ
لَكُمْ عَلَيْنَا مِن فَضْلٍ بَلْ نَظُنُّكُمْ كَاذِبِينَ ﴿٢٧﴾

نو وويل هغو مشرانو چه کافران شوی ؤ له قومه د دغه (نوح) چه نه وينو مونږ تا (ای نوحه په هيڅ صفت) مگر يو بشر پشان زمونږ (بل څه مزيت نه لری) او نه وينو مونږ تا چه متابعت کړی ستا (هيچا) مگر هغه کسانو چه دوی د لاندی (ښکته) زمونږ دی په ظاهر اول فکر بلا تامل، او نه وينو مونږ تاسی لره پر مونږ باندی هيڅ بهتری بلکه گمان کوو مونږ پر تاسی د دروغجنانو

**تفسير:** يعني ښائي چه رسول د ګرد (تول) قوم په مقابل کښې د کومې ښکاره نښې او امتياز لرونکي وي. ليکن مونږ ګورو چه ته هم زمونږ په شان د بشر له جنسه ئې. او د آسمان پرښته نه ئې چه د هغې په مقابل کښې خامخا انسان خپل سر ښکته کړي، بيا په بشريت کښې هم ته داسې يو سړی نه ئې چه په تا کښې کوم خاص تفوق او لوئي پر مونږ باندې وي، مثلاً لوی دولتمن، يا د شان او شوکت خاوند، يا د حکومت او قوت مالک اوسې. هغه کسان چه ستا پيروان او تابعان شوي دي هغو هم ګرد (تول) سره داسې خواران او غريبان او مفلسان او رذيلان دي چه له هغو سره مونږ شرفاء او غتان خپل ملاقات او خبرې کول شرم او ننګ بولو. نو آيا په ګردو (تولو) انسانانو کښې هم دا ته پيدا شوی ئې چه د الله تعالیٰ د رسالت د منصب وړ (مستحق) او لائق وې؟ حال دا چه مونږ د تا په نسبت په حسب او نسب، مال او دولت، خلق (پيدايښت) خلق (رشه، خوی، عادت) او په نورو شيانو کښې له هيڅ پلوه له تا څخه کم نه يو، نو ولې زمونږ له منځه بل څوک پر دغه لوی منصب د رسالت باندې منتخب او غوره نشو؟ يا لږ تر لږه ستاسې تابعين او پيروان ښائي چه کوم معزز او لوی سړي خو وي. ښه د دغو جولايانو، موچيانو او ډمانو تابع کيدل تاسې لره د فضل او شرف څه موجب کيدی شي؟ او څرنګه د صداقت دليل جوړيدی شي؟ د داسې سطحي او سپکو او تيتو خلقو چه د هغو سپکوالي او رذالت بيخي ښکاره او عيان دی، بې له فکره او انديښنې، او بې له غور او تامل په ظاهري او سرسري دول (طريقه) سره ايمان راوړل، ستاسې له کمالاتو څخه نه حسابيږي، بلکه زمونږ خيال خو داسې دی چه ته سره د ملګرو دې دروغجنان يئ تاسې يوه خبره جوړه کړې ده او څو بې وقوفانو ستاسې له «هو» سره هو کړې او يو له بل سره مو خبره يوه کړې ده، څو په دې وسيلې سره يو نوی تحريک جوړ کړئ چه په دغه صورت سره يو امتياز او لوئي او مشرتيا حاصله کړئ.

دا د هغو ملعونانو د تقرير ماحصل ؤ نوح عليه السلام کوم جواب چه دوی ته ورکړی دی، دا دی

---

قَالَ يٰقَوۡمِ أَرَءَيۡتُمۡ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّي وَءَاتَىٰنِي رَحۡمَةٗ مِّنۡ عِندِهِۦ فَعُمِّيَتۡ عَلَيۡكُمۡ أَنُلۡزِمُكُمُوهَا وَأَنتُمۡ لَهَا كَٰرِهُونَ ۝٢٨

---

وويل (نوح) ای قومه زما آيا وينئ خبر راکړئ تاسې (ماته) که يم زه پر سمه لاره (واضح برهان ښکاره حجت) له ربه خپله او راکړې ئې وي ماته رحمت له نزده خپله نو پټ کړی شوی دی (حقيقت د دې دليل) پر ستر ګو د تاسې، آيا مجبور کولی شو مونږ تاسې په قبول د هغو سره (بلکه نه شو) حال دا چه تاسې دغه (برهان) لره بد ګڼونکي انکار کوونکي يئ:

**تفسير:** (يعنى غوښتونكى ئى نه يئ او پرى خفه كيږئ هوا) دا خبره صحيحه ده چه نبى له عامو انسانانو ځنى ښائى بيخى ممتاز وى، ليكن هغه امتياز په مال، دولت، حكومت، او نورو دنيوى شان او شوكت كښى نه وى، بلكه په اعلىٰ اخلاقو، ډيرو ښو ملكاتو، تقوىٰ، د الله تعالىٰ ويره، حق خوښول، له خلائقو سره دردمنى او خواخوږى، او د صريحو او ښكاره ؤ آيتونو او نښو له وړاندى كولو څخه ورته امتياز حاصل وى چه حق تعالىٰ هغه د برهان او د حجت د اتمام او د نعمت د اكمال په ډول (طريقه) په هغو كښى قائموى، يا د هغو په وسيله ئى ښكاروى. نبى عليه السلام د الله تعالىٰ د وحى او د ربانى دلائلو او براهينو په رڼا كښى پر صافه سمه لاره درومى، او شپه او ورځ د الله تعالىٰ خصوصى رحمتونه پرى لكه باران (وريا) ووري نوح عليه السلام وويل «كه دغه گرد (تول) شيان په ما كښى په ښكاره ډول (طريقه) سره موجود وى او يقيناً موجود هم دى ليكن همغسى چه ړوند د لمر رڼا نشى ليدلى نو كه ستاسى سترگى هم د الله تعالىٰ د دى نور له ليدلو څخه قاصرى وى نو آيا زه به په زور سره تاسى ته هغه نور او رحمت درښوولى شم؟ يا ئى بالجبر پر تاسى اقرار كولى شم؟ حال دا چه تاسى له هغه څخه دومره نفور او بيزاره يئ چه خپلى سترگى ورته نه غړوئ، او نه ئى غواړئ، چه وئى گورئ» خلاصه ئى داسى شوه چه زما لوئى او برترى چه ستاسى په نظر كښى نه راځى د دغه سبب دا دى چه ستاسى د زړونو سترگى ړندى يا ترلى شوى دى.

---

وَيٰقَوْمِ لَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مَالًا ۖ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ وَمَآ اَنَا بِطَارِدِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۚ اِنَّهُمْ مُّلٰقُوْا رَبِّهِمْ وَلٰكِنِّيْٓ اَرٰىكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُوْنَ ﴿۲۹﴾

---

او اى قومه زما نه غواړم زه له تاسى په دغه (تبليغ) څه مال (مزدورى)، نه دى اجر (مزدورى) زما مگر په الله باندى او نه يم زه شړونكى د هغو كسانو چه ايمان ئى راوړى دى (په وينا د تاسو، ځكه چه) بيشكه دوى ملاقات كوونكى دى له ربه خپله سره (پس جگړه به وكړى له ما سره كه دوى وشړم) وليكن زه گورم تاسى داسى قوم چه جاهلان يئ (له عاقبته خپله او له شرف د دغو مؤمنانو)

---

**تفسير:** يعنى زه د تبليغ په مقابل كښى له تاسى څخه څه تنخواه او طلب نه غواړم، چه د مالى خود غرضى انديښنه تاسى ته پيدا شى زه د خپل الله خاص بنده او نوكر يم، او د ده له درباره ماته اجر راكاوه كيږى. الحمد لله زه نه ستاسى د مال طالب يم، او نه ورته ضرورت لرم، نو بيا به زه څرنگه فقراء او مساكين پريږدم او تاسى ته به خپل تمائل (ميلان) درښكاروم؟ كه تاسى زما اتباع تش د هغوى د افلاس يا عادى كارونو له سببه حقير او ذليل گڼئ، نو ښه وپوهيږئ چه

زه له هغو کسانو څخه نه یم چه د ایمان د دولت پنګی (سرمایه) لرونکو ته د دوی د ظاهری پریشانی او بی وزلی (کمزوری) لامله (له وجی) په سپکه وګورم یا هغوی لکه د حیواناتو په شان تیل ووهم، او له خپله ځانه ئی لری وشړم. دوی به یوه ورځ د خپل پاک الله په حضور کښی مشرفیږی، او زما شکایت به د ده په دربار کښی کوی. چه ستا رسول د متکبرانو دنیادارانو په خاطر مونږ وفاداران غریبان ئی له خپله حضوره لری کړی وو. زه د ظاهری وضعیت په خلاف به څرنګه پوهیدی شم چه د هغوی ایمان یوازی ظاهری او سطحی دی د زړونو څیرول او د هغه لیدل زما کار نه دی او د دغو امورو اطلاع او پته یوازی پاک الله سره ده، او هغه ښه پوهیږی چه د دوی د زړونو احوال څه دی؟

﴿ وَلٰكِنِّيٓ أَرٰىكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُوْنَ ﴾ او لیکن زه ګورم تاسی داسی قوم چه جاهلان یئ له عاقبته خپله او له شرف د دغو مؤمنانو) یعنی د جهل او حماقت لامله (له وجی) د دوی پای (آخر) او انجام ته نه ګوری، او یوازی د دوی ظاهری پریشانی، مسکنت ته ګوری او حقیر او خوار ئی ګڼی. او داسی مهمله او چتی (بیکاره) غوښتنه کوی چه دوی له خپله ځانه لری کړه چه مونږ تاته راشو. آیا غربت او حلال کسب څه عیب او نقصان لری؟ هم داسی شیان خو له سره د حق د قبلولو په لاره نه مزاحم کیږی. عموماً د دولت او د جاه نشی او مستی انسان د حق له قبوله بی برخی کوی، ځکه د «هرقل» په حدیث کښی راغلی دی چه د انبیاؤ متبعین ضعفاء وی. په هر حال تاسی نه پوهیږئ چه ګرد (تول) سره د الله تعالیٰ په حضور کښی تولیږئ، او د هغه په لوی دربار کښی به دا ښکاریږی چه دغه ستاسی تکبر، لوئی، غرور د هغوی په مقابل کښی خوشی چتی (بیکاره) یو د جاهلیت فخر او غرور وو.

---

**وَيٰقَوْمِ مَنْ يَّنْصُرُنِيْ مِنَ اللّٰهِ إِنْ طَرَدْتُّهُمْ ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿٣٠﴾**

---

او ای قومه زما څوک به مرسته (مدد) وکړی له ما سره (چه ما وساتی) له عذابه د الله که وشړم زه دوی (بلکه هیڅوک ئی نشی کولی)، آیا (فکر نه کوئ) نو پند نه آخلئ تاسی.

---

**تفسیر:** یعنی زه ستاسی له کبره او غروره او جهالته متاثر شوی څرنګه خپل نقصان وکړم؟ که ستاسی په رعایت زه د الله تعالیٰ مخلصو بندګانو ته څه ووایم یا ئی وشړم، نو د هغه د سزا او له پوښتنی څخه به می څوک ژغورلی (خلاصولی) شی؟

---

**وَلَآ أَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِيْ خَزَآئِنُ اللّٰهِ وَلَآ أَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَآ أَقُوْلُ إِنِّيْ مَلَكٌ وَّلَآ أَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ تَزْدَرِيْٓ أَعْيُنُكُمْ**

لَنْ يُّؤْتِيَهُمُ اللّٰهُ خَيْرًا اَللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ اِنِّيْٓ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۳۱﴾

او نه وايم زه تاسو ته چه ما خخه خزانې د الله دي او نه (وايم دا چه) پوهيږم په غيب باندې (په علم‌اليقين سره) او نه وايم زه چه بيشکه زه پرښته يم او نه وايم زه په حق د هغو (فقيرانو مؤمنانو) چه سپک ورته ګورې سترګې ستاسې چه له سره به ورنه کړي دوی ته الله هيڅ خير، الله ښه عالم دی په هغه (اخلاص) چه په نفسونو د دوی کښې دی، (که زه دغه ووايم) نو زه په دغه وقت کښې خامخا له ظالمانو څخه به يم

**تفسير:** کفارو نوح عليه السلام ته ويلې ؤ «چه ته خو زمونږ په شان يو بشر ئې، د قوت، قدرت، او دولت او اموال او رجال په اعتبار هم پر مونږ څه امتياز نه لرې» نو نوح عليه السلام د دې خبرې جواب په ډير متانت او انصاف سره ورکړ چه «بيشکه هغه امتياز چه تاسو ئې ليدل غواړئ زه ئې مدعي نه يم بلا شبهه زه خو يو بشر يم پرښته نه يم نه الله تعالیٰ خپلې ګردې (تولې) خزانې زما په تصرف او اختيار کښې ايښې دي او نه ئې د غيب پر ګردو (تولو) خبرو مطلع کړی يم. ليکن سره د دغو ګردو (تولو) خبرو د اعتراف سره زه ستاسې په شان له سره داسې نشم ويلې چه هغه خلق چه ستاسې په نظر کښې معيوب او حقير دي (يعنې زه او زما ملګري) هغوی ته به له سره پاک الله هيڅ کله څه خير او ښېګڼه (فائده) نشي ورکولې مثلاً له هغو څخه ئې ځينو ته نبوت او حکمت عطا فرمايلې دی او نور ئې د ايمان او عرفان په دولت سره ګټور (نفع مند) کړي دي. ښه وپوهيږئ چه الله تعالیٰ د دوی د زړونو پر استعدادونو او کيفياتو ښه پوهيږي، او هر يوه ته د ده له استعداده سره مناسب فيض وررسوي، او د دوی له باطني احوالو او کيفياتو سره موافق معامله ورسره کوي. پاک الله هغه خاصه مهرباني چه له ماسره يا د زما له ملګرو سره ئې فرمايلې ده هغه ستاسې له سترګو څخنې پته ده. که زه داسې ووايم چه هغه کسان چه ظاهراً تاسو ته حقير، فقير، ذليل او ګوډ او مات ښکاري، الله تعالیٰ هم چه د بواطنو او پټو احوالو څخنې ښه عالم او پوه او ښه خبردار دی هغوی ته هيڅ يو عزت او شرف نه دی وربښلی، نو دغه به نهايت د بي اصولۍ او ناانصافۍ خبره وي»

**تنبيه:** د دې آيت ابتدائي درې جملې په (۷) جزء د الانعام د سورت په (۵۰) آية (٤) رکوع کښې تيرې شوې دي د هغه ځای په تفاسيرو کښې دې بيا ولوستلې شي.

قَالُوْا يٰنُوْحُ قَدْ جٰدَلْتَنَا فَاَكْثَرْتَ جِدَالَنَا فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۳۲﴾

وویل (کفارو) ای نوحه په تحقیق جګړه دی وکړه له مونږ سره پس ډیره دی کړه جګړه زمونږ نو راوړه مونږ ته هغه عذاب چه وعده ئی کوی ته له مونږ سره که ئی ته له صادقانو (رښتیا ویونکو په دی وعید خپل کښی)

**تفسیر:** حضرت نوح علیه السلام پخوا له طوفانه نهه سوه او پنځوس کاله په دوی کښی شپه او ورځ په پټه او په ښکاره هغو ته پند او نصیحت کاوه او د هری شبهی جواب ئی ورکاوه د تبلیغ، تفهیم، بحث، مناظری، خبرو اترو سلسله جاری وه، په دغو جګړو کښی په سلهاؤ کلونه تیر شول کفار د نوح علیه السلام د دغو حقانی مباحثو او د شپی او د ورځی ممانعت او مزاحمت څخه عاجز او پکو (تنګ) شول او ګردو (تولو) سره وویل چه اوس دغه سلسله رابنده کړه! که په رښتیا سره ته رښتیا وائی نو هغه عذاب ژر رانازل کړه! چه مونږ د عذاب له نزول څخه تل ویروی! څو دغه د هری ورځی جګړه بیخی پای (آخر) ته ورسیږی او دا مناقشه بالکل ختمه شی.

قَالَ اِنَّمَا يَاْتِيْكُمْ بِهِ اللّٰهُ اِنْ شَآءَ وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿٣٣﴾

نو وویل نوح بیشکه هم دا خبره ده چه رابه ولی تاسی ته دا عذاب خاص الله (نه بل څوک) که اراده وفرمائی (د راوستلو ئی اوس یا وروسته) حال دا چه نه یئ تاسی عاجز کوونکی (د الله په دفع د عذاب په زور یا په تیښتی سره)

**تفسیر:** یعنی د دغه عذاب نزول زما په قبضه کښی نه دی څه مهال (وخت) چه پاک الله سم له خپله حکمت سره اراده وفرمائی نو عذاب نازلوی، زما فرض یوائځی خبرول دی پاتی شو عذاب هغه خو داسی هولناک او عظیم الشان شی دی چه د هغه راوړل، یا ئی مخه بیرته آړول، دواړه د بشری له قوی څخه خارج دی، کله چه الله تعالیٰ مشیت وفرمائی نو څوک تری نشی تښتیدلی او نه تری چیری پټیدی شی. داسی څوک دی چه (معاذ الله) پاک الله ستړی او ستومان کړی او ځان تری وژغوری (بچ کړی).

وَلَا يَنْفَعُكُمْ نُصْحِيْٓ اِنْ اَرَدْتُّ اَنْ اَنْصَحَ لَكُمْ اِنْ كَانَ اللّٰهُ يُرِيْدُ اَنْ يُّغْوِيَكُمْ هُوَ رَبُّكُمْ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٣٤﴾

او نه نفع در رسوی تاسی ته نصیحت زما که اراده وکړم زه چه نصیحت

وکړم تاسی ته که وی الله چه اراده لری د دی چه ګمراه وفرمائی تاسی، هم دی دی رب ستاسی (هر څه چه غواړی هغه ستاسی سره کولی شی)، او خاص هم ده ته بیرته بیولی کیږئ (پس له مرګه په قیامت کښی)

**تفسیر:** یعنی پر کفر باندی دومره اصرار او ضد او سپین سترګی او انتهائی شوخی، او د عذاب د نزول له استدعاء کولو څخه دغه خبره راڅرګندیږی چه د الله تعالیٰ اراده پر هم دغه تللی ده چه تاسی په هم دغی ګمراهی کښی پراته اوسئ، او بالاخر به هلاک کړی شئ، پس که ستاسی د دی بد کرداری لامله (له وجی) د الله تعالیٰ اراده پر هم دی تللی وی، نو که زه هومره نصیحت او خیر غوښتنه مو وکړم. او تاسی ته ګټه (فائده) دررسونه وغواړم له سره به هغه نافع او مؤثره نه لویږی. ستاسی رب همغه ذات دی چه د هغه په ملکیت او تصرف کښی هر شی دی. له هر چا سره چه هره معامله وفرمائی. هیڅوک ئی مخه نشی نیولی. د ګردو (تولو) رجوع او ورتګ د هم ده په لوری دی همغه د ګردو(تولو) اعمالو جزا او سزا ورکوونکی دی. (ربط) حضرت شاه صاحب لیکی تر دی ځایه پوری هومره سؤالات او اعتراضات چه د نوح علیه السلام د قوم ؤ، همغه د محمد رسول الله صلی الله علیه وعلی آله وصحبه وسلم د قوم هم ؤ. ګواکی دغه ګرد (تول) جوابونه هغوی ته هم ورکړل شول. بل د هغو یوه نوی دعوی وه چه هغه له دی نه وروسته د قصی په منځ کښی بیان فرمائی.

أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ ۖ قُلْ إِنِ افْتَرَيْتُهُ فَعَلَيَّ إِجْرَامِي وَأَنَا بَرِيءٌ مِّمَّا تُجْرِمُونَ ﴿٣٥﴾

(وفرمایل الله) بلکه آیا وائی دوی چه له خپله ځانه یی جوړه کړی ده دغه (وحی)، ووایه (ای رسوله دوی ته) که می له ځانه جوړه کړی وی دغه وحی نو خاص پر ما دی عقوبت د ګناه زما او زه بیزاره (غیر مسئول) یم له هغی ګناه چه تاسی ئی کوئ.

**تفسیر:** دغه خبری اتری د مکی معظمی د کفارو وی له پاک رسول الله صلی الله علیه وسلم سره چه دغه قرآن تاسی له خپله ځانه جوړ کړی دی، او د پاک الله کلام نه دی، حضرت نوح علیه السلام کتاب نه ؤ راوړی چه د نوح علیه السلام قوم داسی خبری وکړی (کذا فی الموضح) لیکن ځینو مفسرینو دغه آیت هم د نوح علیه السلام د قصی جز شوولی دی. یعنی د نوح علیه السلام قوم وویل هغه خبری چه نوح د الله تعالیٰ په لوری منسوبوی، هغه ئی له خپله ځانه تړلی دی. ځینی وائی چه دغه وینا خو د مکیانو ده له پاک رسول صلی الله علیه وسلم سره مګر د هغه

تعلق خاص د نوح علیه السلام له قصی سره ؤ. ګواکی هغوی ویل چه دغه داستان تاسی په دروغو سره جوړ کړی دی، او په واقع کښی په دغو قصو کښی له سره حقیقت نشته او اصل نه لری.
﴿ قُلْ إِنِ افْتَرَيْتُهُ فَعَلَيَّ إِجْرَامِي ﴾ الآیة - ووایه ای رسوله دوی ته که له ځانه می جوړه کړی وی دا وحی نو خاص پر ما دی عقوبت د ګناه زما او زه بیزاره او غیر مسؤل یم له هغی ګناه چه تاسو ئی کوئ) قرآن ته د (مفتری) ویلو تحقیقی جواب د دغه سورت په (۱۳) آیت (۲) رکوع کښی پرومبی تیر شوی دی دلته ئی آخری خبره وفرمایله یعنی د لوی قرآن کلام الٰهی توب په نهایت واضحو او محکمو دلائلو سره څو څو ځلی ثابت کړی شوی دی د داسی روڼ او روښان شی له تکذیبولو سره هغه ګناه چه تاسی ګټلی ده د هغی وبال پر تاسی لوېږی، نو له هغی څخه ووېرېږئ او د خپلو ځانونو په فکر او غم کښی ولوېږئ ما کافی او پوره تبلیغ کړی او ځان می برئ الذمه ګرځولی دی. نو په سر د هغه هم که تاسی نوری غلطی کوئ نو د هغو ذمه واری زما په غاړه نه ده. په فرض محال که ما افتراء کړی وی، نو د هغه ګناه خو زما په غاړه کښی لوېږی. نو الحمد لله داسی کوم کار هم شوی نه دی.

---

وَأُوحِيَ إِلَىٰ نُوحٍ أَنَّهُ لَن يُؤْمِنَ مِن قَوْمِكَ إِلَّا مَن قَدْ آمَنَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ﴿٣٦﴾

---

او وحی کړی شوی وه نوح ته چه بیشکه شان دا دی چه له سره به ایمان رانه وړی له قومه د تا مګر هغه چه په تحقیق ایمان ئی راوړی دی (پخوا له دی نه) نو مه غمجن کیږه په هغه (ایذاء او تکذیب) چه وو دوی چه کول به ئی (او رسول ئی درته)

---

**تفسیر:** کله چه د قوم ایذاوی او ربړونه (تکلیفونه) له حده تیر شول، نوح علیه السلام د سلهاؤ کلونو د ربړ (تکلیف) تیرولو او جور او جفاء لیدلو څخه وروسته د پاک الله په دربار کښی شکوه وفرمایله چه «انی مغلوب فانتصر- زه مغلوب او ضعیف یم ته له دوی نه بدل واخله!» ارشاد وشو چه د هغو څو شمیرلیو غورو خلقو په قسمت کښی چه ایمان لیکلی شوی ؤ، هغوی خو ګردو (تولو) ایمان راوړ، وروسته له دی نه د دوی له منځه بل هیڅوک نه مسلمانیږی. نو ځکه اوس تاسی د دوی له عداوت او تکذیب او ایذاء رسولو څخه زیات مه غمجن کیږئ عنقریب د الله تعالیٰ د انتقام توره راوځی، او د دوی دغو ګردو (تولو) شرارتونو ته سره له دغو شریرانو خاتمه ورکوی.

وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا وَلَا تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ظَلَمُوا ۚ إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ ﴿٣٧﴾

او جوړه کړه ته بېړی په اعین (یعنی په حضور او حفاظت) زمونږ او په (حکم) زمونږ او مه کوه خبری ما سره (په دفع د عذاب) په حق د هغو کسانو چه ظالمان (کافران) شوی دی، چه بیشکه په دوی باندی حکم کړی شوی د غرقیدلو (نجات ئی نشته)

**تفسیر:** حق تعالیٰ نوح علیه السلام ته وفرمایل چه زما په اعین یعنی زمونږ په حضور، زمونږ په حفاظت او نګرانی کښی او زمونږ د حکم، تعلیم، الهام، او پیغام سره سم یوه بیړی تیاره کړه! ځکه چه عنقریب د اوبو یو ډیر سخت طوفان (څپان) راتلونکی دی چه په هغه کښی دغه ګرد (ټول) ظالمین او مکذبین بالیقین ډوبیږی او د دوی په حق کښی دغه حکم او فیصله حتماً او جزماً منطبقه کیدونکی ده ته د هیڅ یو ظالم او د نورو سپارش مه کوه! او د دوی د شفاعت دپاره ماته مخ مه ګرځوه! ځکه چه راتلونکی عذاب له سره منع کیدونکی نه دی بلکه بیخی قطعی او حتمی دی. کله چه حضرت ابراهیم علیه السلام د لوط علیه السلام د قوم په حق کښی د شفاعت غوښتنه وکړه. هغه ته هم داسی ارشاد شوی و ﴿ يَا إِبْرَاهِيمُ أَعْرِضْ عَنْ هَٰذَا ۖ إِنَّهُ قَدْ جَاءَ أَمْرُ رَبِّكَ ۖ وَإِنَّهُمْ آتِيهِمْ عَذَابٌ غَيْرُ مَرْدُودٍ ﴾ د هود ۷ رکوع آیت ۷٦ (۱۲۸۲ مخ)

وَيَصْنَعُ الْفُلْكَ وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ مَلَأٌ مِّن قَوْمِهِ سَخِرُوا مِنْهُ ۚ قَالَ إِن تَسْخَرُوا مِنَّا فَإِنَّا نَسْخَرُ مِنكُمْ كَمَا تَسْخَرُونَ ﴿٣٨﴾

او جوړوله (نوح) بېړی حال دا هر کله چه تیریدله به پر دغه (نوح) ډله (د مشرکانو یا مشرانو) له قومه د نوح نو مسخری به ئی کولی په دغه (نوح) پوری، نو وویل (نوح) که مسخری کوئ تاسی پر مونږ پوری نو بیشکه مونږ به هم مسخری وکړو په تاسی پوری لکه چه اوس مسخری کوئ تاسی (پر مونږ پوری)

**تفسیر:** وایی چه دغه بیړی، د څو کلونو په مدت کښی تیاره شوه، او بیړی نه وه بلکه یو لوی جهاز و چه پکښی څو طبقی او بیلی بیلی درجی وی مفسرینو د دی په تفاصیلو کښی ډیر اغراق او مبالغی او عجیب او غریب روایات بیان کړی دی چه له هغو ځنی علی‌الاکثر اسرائیلیات هم دی چه وګورئ له نبوته د ده کار ترکانی ته ورسید. کله به ئی چه دغه عجیب شی (بیړی)

لیدله، نو له نوح علیه السلام څخه به ئې پوښتنه کوله چه «ته دغه څه جوړوې؟» دوی به ویل چه «یو داسې کور جوړوم چه د اوبو په سر به درومي، او له ډوبیدلو څخه به مونږ بچ کوي» کفار به د دې خبرې له آوریدلو څخې له خندا شنه او په مسخرو کښې به سره لګیا کیدل، او پخپلو منځونو کښې به ئې ویلې چه دغه سپین ږیرې ته وګورئ چه له اوبو څخه لرې په وچه لوړه (اوچته) ځمکه کښې له اوبو څخه د نجات په فکر کښې ډوب تللی دی. حضرت شاه صاحب لیکې «کفارو به خندل چه نوح علیه السلام په وچه ځمکه کښې له ډوبیدلو څخه د نجات په فکر کښې لویدلی دی. نوح علیه السلام پر دوی باندې خندل چه مرګ د دوی پر سر باندې ځوړند او ولاړ دی او دوی ورته خاندې» د دغه تفسیر سره موافق شیخ الهند رحمة الله علیه د «فانا نسخر منکم» ترجمه د حال په صیغه سره کړې ده ابن کثیر رحمة الله علیه په «نسخر منکم» کښې د استقبال معنی مرادوی یعنی نن تاسې پر ما باندې د ناپوه او احمق خیال کوئ او راپورې خاندئ، لیکن هغه زمانه قریبه ده چه د هغه په جواب کښې ستاسې دغه حماقت او سفاهت پورې به مونږ ته هم موقع په لاس راشي چه مونږ به هم پر تاسې باندې وخاندو، کله چه تاسې د خپلو جرائمو په بدل کښې په سزا ورسیږئ.

فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ مَنْ يَّاْتِيْهِ عَذَابٌ يُّخْزِيْهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ﴿٣٩﴾

نو ژر به وپیژنئ تاسې هغه څوک چه رابشي ورته (داسې) عذاب چه وبه شرموي ده لره په (غرق سره) او راکوزیږی به په ده عذاب دائم (په حرق سره)

**تفسیر:** یعنی اوس څه زیات تاخیر نشته او ژر تر ژره به درښکاره شي چه د دنیا رسوا کوونکې، او د آخرت دائمي عذاب پر چا باندې نازلیږي؟

حَتّٰۤى اِذَا جَآءَ اَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّوْرُ قُلْنَا احْمِلْ فِيْهَا مِنْ كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ وَاَهْلَكَ اِلَّا مَنْ سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ وَمَنْ اٰمَنَ ؕ وَمَاۤ اٰمَنَ مَعَهٗۤ اِلَّا قَلِيْلٌ ﴿٤٠﴾

تر هغه پورې کله چه راغی امر (حکم د عذاب) زمونږ او راوخوټیده تنور (یعنی اوبه له تناره بیا چه عذاب سر راوړ نو) وویل مونږ (نوح ته) سواره کړه په دې بیړۍ کښې له هرې (نوعې نافعې د حیواناتو څخه) جوړه دوه دوه (نر او ښځه) او اهل خپل (د بیت دې هم سواره کړه) مګر مه سوروه

هغه چه ړومبی شوی ده په ده وینا (او حکم د دوبیدلو) او هغه (هم سواره کړه) چه ایمان ئی راوړی دی، او نه وو ایمان راوړی سره له دغه (نوح) مگر خو لږو خلقو.

---

**تفسیر:** یعنی نوح علیه السلام تر هغه وقته پوری د بیړی په جوړولو کښی مشغول ؤ چه د الله تعالیٰ له وعدی سره موافق گردو(تولو) وریځو ته حکم ورسید چه «تولی سره ور وورېږئ او ځمکی ته وویل شو چه خپلی گردی (تولی) اوبه وخوتوه او پرښتو ته وویل شو چه تاسی د خپل تعذیب او نورو منصبی فرائضو په ځای راوړلو کښی متوجه شئ»! بالاخر له پاسه سخت بی دریغه باران وورېده، له ښکته د ځمکی له سطحی د زوررورو او سختو خوتیدونکو چینو او تندوبی (فواری) په شانی په جوش وهلو او خوتیدلو باندی شروع وکړه. تر دی چه د دودی پخولو له تنورونو څخه هم چه له اور ځنی ډک یک ؤ هم اوبه راووتی.

**تنبیه:** د «تنور» په معنی کښی اختلاف دی. ځینی تری مطلق د دودی پخولو تنور مرادوی ځینی وائی چه یو تنور له حضرت بی بی حواء څخه منتقل شوی او حضرت نوح علیه السلام ته رسیدلی ؤ، او هغه د ده په کور کښی د طوفان نښه تاکلی (مقرر کړی) شوی وه چه هر کله له دغه تناره څخه اوبه وخوتیږی نو ته دی په بیړی کښی سور شه! د ځینو په نزد «تنور» کومه خاصه چینه وه په «کوفه» یا «جزیره» کښی ځینو دعوی کړی ده چه «تنور» ئی د سحار د سپیده داغ رڼا ته ویلی دی یعنی کله چه د سبا رڼا دیره ښه وځلیږی «ابوحیان رحمة الله علیه» وائی چه (فار التنور) ممکن دی چه د عذاب له ظهور او د هول له شدته څخه کنایه وی، لکه چه «حمی الوطیس» د حرب له شدته کنایه ده. له ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه څخه منقول دی چه د «تنور» معنی وجه الارض او د ځمکی مخ دی مونږ پاس کوم تفسیر چه کړی دی هم دغه معنی مو مقدمه ایښی ده، او د نورو معانیو په لوری مو هم اشاره کړی ده. حافظ ابن کثیر رحمة الله علیه د هم دغه تفسیر له لیکلو څخه وروسته فرمائی **«وهذا قول جمهورالسلف وعلماء الخلف والله اعلم»**.

﴿ قُلْنَا احْمِلْ فِيهَا مِن كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ ﴾ بیا چه عذاب سر راوړ نو وویل مونږ نوح ته چه سپاره (سواره) کړه په دی بیړی کښی له هری نوعی نافعی د حیواناتو څخه جوړه دوه دوه (نر او ښځه) یعنی له هغو ساکښانو (زنده سرو) چه ضرورت ورته پیښیږی، او د هغوی نسل پاتی کیدل مقدر دی. یوه یوه جوړه نر او ښځه دواړه واخله، او په بیړی کښی ئی سواره کړه!

﴿ وَأَهْلَكَ إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ ﴾ او اهل د بیت خپل هم سواره کړه په دی بیړی کښی مگر مه سوروه هغه چه ړومبی شوی ده په ده وینا او حکم د دوبیدلو) یعنی دغه مقدره او مقرره شوی ده چه هغه د ظالمانو په زمره کښی د داخلیدلو له سببه غرق شی. له ﴿ وَلَا تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ظَلَمُوا إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ ﴾ څخه مراد د نوح علیه السلام هغه ځوی مقصود دی چه نوم ئی (یام) او لقب ئی کنعان ؤ او بل د کنعان مور مقصوده ده چه (واعله) نومیده او د نوح علیه

السلام له کورنی ځنی هم دغه مور او ځوی دواړه بیل او په طوفان کښی ډوب شوی دی.
﴿ وَمَآ ءَامَنَ مَعَهُۥٓ إِلَّا قَلِيلٌ ﴾ او نه وو ایمان راوړی سره له نوح مگر خو لږو خلقو) یعنی اتیا
نارینه یا څه لږ یا څه ډیر د نوح علیه السلام د بیړی د اراکینو په نسبت ډیر اقوال دی اما
آخری دا دی چه یو پخپله نوح علیه السلام ؤ او یوه ئی مسلمانه ښځه او دری ئی ځامن سام،
حام، یافث او دری د دوی ښځی دا اته شو او له قوم ئی ٣٦ نارینه ٣٦ ښځی چه دا تول سره
اتیا تنه شول.

---

وَقَالَ ٱرْكَبُوا۟ فِيهَا بِسْمِ ٱللَّهِ مَجْر۪ىٰهَا وَمُرْسَىٰهَآ ۚ إِنَّ رَبِّى لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٤١﴾

---

او وویل نوح چه سپاره (سواره) شئ پر دغی (بیړی او وایئ) په نامه د الله دی روانیدل د دی (بیړی) او دریدل د دی (بیړی)، بیشکه چه رب زما خامخا ښه ښښونکی مغفرت کوونکی (د خطیاتو) ډیر رحم والا دی (په اکرام د اجر او ثواب سره)

---

**تفسیر:** نوح علیه السلام خپلو ملگرو ته وویل چه د پاک الله په نامه پر بیړی، سواره شئ! او هیڅ فکر او اندیښنه مه کوئ، د دغی بیړی روانیدل او دریدل دواړه د الله په نامه او اذن او حکم، او د ده د پاک نامه په برکت سره دی او د دی د ډوبیدلو هیڅ اندیښنه نشته. زمونږ رب د مؤمنینو قصور معافوی او پر دوی بی حده مهربان دی. دی به پخپل فضل او کرم او مهربانی سره مونږ روغ رمټ او صحیح او سلامت راکوزوی. له دی آیت څخه دغه خبره استخراجیږی چه په کشتۍ او نورو نقلیهؤ وسائلو باندی د سوریدلو په وقت کښی ښائی چه «بسم الله» وویلی شی.

---

وَهِىَ تَجْرِى بِهِمْ فِى مَوْجٍ كَٱلْجِبَالِ وَنَادَىٰ نُوحٌ ٱبْنَهُۥ وَكَانَ فِى مَعْزِلٍ يَٰبُنَىَّ ٱرْكَب مَّعَنَا وَلَا تَكُن مَّعَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٤٢﴾

---

او دی (بیړی) به وړل دوی په موجونو (چپو د اوبو) کښی په شان د غرونو، او ناری کړی نوح (له ډیره شفقته) ځوی خپل ته حال دا چه ؤ هغه په کناره (له پلاره یا له ایمانه یا له بیړی نه) ای بچوړیه زما راځه سور شه! (په بیړی کښی) له مونږ سره او مه کیږه له کافرانو سره (چه غرق به شی).

---

**تفسیر:** یعنی بیړی به د غرونو غوندی موجونه او چپی څیرولی، او پخپل تکر سره به ئی وهلی او بی له خوفه او خطری به پری روانه وه، وروسته له سوریدلو نوح علیه السلام خپل ځوی (یام -

کنعان) ته ورغږ کړ چه له خپله پلاره او ورونو او نوری کورنی څخه بیل او له کفارو سره ایل او غیل (ملگری) ؤ چه «د دغو بدبختانو کفارو ملگرتوب پرېږده له مونږ سره راشه! څو له دغه لوی مصیبت څخه نجات ومونډلی شی».

**تنبیه:** یا خو نوح علیه السلام پر کنعان د مؤمن خیال کاوه، نو ځکه ئی ورغږ کړ. اگر که دی په واقع مؤمن نه ؤ. یا به ئی کافر گڼه مگر داسی هیله (امید) او توقع ئی درلوده (لرله) ښائی چه د دغو هول‌ناکو دلائلو له لیدلو څخه به مسلمانیږی، یا د «اهلک» په عموم کښی د دخول لامله (له وجی) او د پلارتوب د شفقت له جوشه به ئی داسی کړی وی. او «الامن سبق علیه القول» به ئی د اجمال په سبب پری منطبق نه وی گڼلی والله اعلم.

قَالَ سَاٰوِيْٓ اِلٰى جَبَلٍ يَّعْصِمُنِيْ مِنَ الْمَآءِ ۭ قَالَ لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ اِلَّا مَنْ رَّحِمَ ۚ وَحَالَ بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ الْمُغْرَقِيْنَ ۝۴۳

وویل (کنعان ځوی د نوح) چه ژر به لاړ شم ځای به ونیسم پر سر د کوم غره باندی چه وساتی می له اوبو نه، وویل (نوح) چه نشته ساتونکی نن ورځ له امره (حکمه او له عذابه) او پرده شو د دوی دواړو په منځ کښی موج (چپه د اوبو) نو وگرځید (کنعان) له جمله د غرق کړیو شویو.

**تفسیر:** «کنعان» له خپل جهل او غباوته اوس هم داسی خیال کاوه لکه چه سری د عادی او معمولی سیلاب (ځپان) په اوقاتو کښی پر کومه لوړه (اوچته) خیژی او خپل ځان ژغوری (بچ کوی)، نو زه به هم پر کومی لوړی (اوچتی) څوکی د غره وخیژم او خپل ژوندون به وساتم. ﴿قَالَ لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ﴾ الآیة ـ نو وویل نوح علیه السلام له سره نشته ساتونکی نن ورځ له امره او حکم او له عذابه د الله څخه ولیکن هغه څوک چه رحم وکړی الله پری او وئی ساتی له عذابه نو نجات مومی) یعنی ته په کوم خبط او خطاء کښی لویدلی ئی، دغه عظیم طوفان خو کوم معمولی سیلاب نه، بلکه د الله تعالیٰ د عذاب طوفان دی. د لوړو (اوچتو) غرونو حقیقت او ماهیت څه دی، نن هیڅ یو شی د پاک الله له عذابه نجات نشی مونډلی. هو! د همغه چا په برخه کښی نجات کیدی شی چه د پاک الله فضل او کرم پری وی. مگر په دغه لویه او مهیبه هنگامه او انتقام په مقام کښی به پر غتو مجرمانو څه رحم او شفقت کیدی شی؟ د پلار او ځوی په منځ کښی لا د خبرو او اترو دغه سلسله پای (آخر) ته نه وه رسیدلی چه د اوبو یوه لویه چپه او موج د دوی تر منځ حائله شوه او دوی دواړه ئی د تل دپاره سره بیل کړل.

(بیا هر کله چه واقعه د طوفان نهایت ته ورسیده او کفار غرق شول، نو د پاک الله داسی امر صادر شو)

وَقِيلَ يَٰٓأَرۡضُ ٱبۡلَعِي مَآءَكِ وَيَٰسَمَآءُ أَقۡلِعِي وَغِيضَ ٱلۡمَآءُ وَقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ وَٱسۡتَوَتۡ عَلَى ٱلۡجُودِيِّۖ وَقِيلَ بُعۡدٗا لِّلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ٤٤

او وویل شو چه ای ځمکی جذب کړه (بیرته شکته ونغړه) اوبه خپلی او ای آسمانه بندی کړه (اوبه خپلی) او کمی کړی شوی اوبه (له مخ د ځمکی) او پوره کړ شو هغه حکم (د اهلاک د اشرارو او انجاء د ابرارو) او ودریده بیړی پر غره د جودی او وویل شو (هلاک) لریوالی دی وی (له رحمته) قوم ظالمانو (کافرانو) ته

**تفسیر:** تر یوه مدت پوری دومره زیاتی اوبه له آسمانه راتوئی شوی چه ګواکی د آسمان ګرد (تول) ورخونه او بندونه سره خلاص شوی دی او د ځمکی ګردی (تولی) پولی او پردی سره شلیدلی، او بیرته شوی وی، تر ونو او لوړو (اوچتو) او غرونو پوری هم اوبه وختلی او هغه ګرد (تول) پکښی دوب او پټ شول. بی د کشتی له سورو څخه نورو ګردو (تولو) کفارو ته چه د دوی په حق کښی نوح علیه السلام د ﴿ رَّبِّ لَا تَذَرۡ عَلَى ٱلۡأَرۡضِ مِنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ دَيَّارًا ﴾ (٢٩ جزء د نوح د سورت ٢٦ آیت دوهمه رکوع) ښیرا کړی وه، غرق شول. په دغه وقت کښی الله قدوس جلت عظمته ځمکی ته امر ورکړ چه اوس دی خپلی اوبه بیرته درجذبی کړه، او درکش ئی کړه!، او ای آسمانه نور بس کړه او مه وریږه! او ای وریځو لری شئ!، نو بیا څه مجال ؤ چه دغو ګردو (تولو) د هغه حکم امتثال نه وی کړی او په تعمیل کښی ئی د یوی لمحی دیل او معطلی کړی وی لکه چه د اوبو وچیده شروع شول، او بیړی د (جودی) پر غره باندی ودریده چه د ځینو په نزد په (موصل) کښی دی. او د هغه امر اراده چه پاک الله د مجرمینو د سزا ورکولو په نسبت فرمایلی وه پوره شوه د ظالمانو په حق کښی دغسی وویل شو چه د پاک الله له رحمته د تل دپاره لری شئ! او د همیشه دپاره د مصیبت او هلاکت په غارونو او کندو کښی پراته اوسئ!

**تنبیه:** په دغی خبری کښی اختلاف دی چه د نوح علیه السلام طوفان پر ګردی (تولی) دنیا باندی ختلی ؤ؟ یا په خاصو ملکونو کښی واقع شوی ؤ؟ د دی خبری د فیصلی کولو ځای دلته نه دی، مګر په یاد ئی ولرئ چه په «دائرة المعارف» کښی د (یورپ) د ځینو محققانو داسی اقوال او دلائل نقل شوی دی چه له هغو څخه د عمومی طوفان د وقوع تائید کیږی. هغه کسان چه د عمومی طوفان قائلان دی له دوی څخه د اکثرو په نزد د موجوده عالم ګرد (تول) انسانان د نوح علیه السلام د دریو ځامنو (١) سام (٢) حام (٣) یافث، له اولادی څخه دی «وجعلنا ذریته هم الباقین» له طوفانه هغه وړوکی او حیوانات چه هلاک شوی دی د هغوی اهلاک د تعذیب

په دول (طريقه) نه ؤ، بلکه همغسې چه پاک الله د نورو طبعيه ؤ اسبابو په وسيله پر هغوی باندی موت طاری کوی، او هغه ظلم نه دی، هم داسې دلته هم د دوی موت په هم دغې ذريعې سره واقع شوی دی. لکه چه اوس هم څه مهال (وخت) چه سيلاب (ښځان) او نور طوفانونه راځي په هغو کښې څومره حيوانات او وړوکي او نور مره کيږی.

وَنَادٰى نُوْحٌ رَّبَّهٗ فَقَالَ رَبِّ اِنَّ ابْنِیْ مِنْ اَهْلِیْ وَاِنَّ وَعْدَكَ الْحَقُّ وَاَنْتَ اَحْكَمُ الْحٰكِمِیْنَ ﴿٤٥﴾ قَالَ یٰنُوْحُ اِنَّهٗ لَیْسَ مِنْ اَهْلِكَ ۚ اِنَّهٗ عَمَلٌ غَیْرُ صَالِحٍ ۖ فَلَا تَسْـَٔلْنِ مَا لَیْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ ؕ اِنِّیْۤ اَعِظُكَ اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْجٰهِلِیْنَ ﴿٤٦﴾

او غږ (سوال) وکړ نوح رب خپل ته نو وی ويل ای ربه زما بيشکه چه ځوی زما له اهله زما څخه دی او بيشکه چه وعده ستا حقه ده او ته ئی ښه عالم عادل لوی حاکم له ټولو حکم کوونکو څخه. وفرمايل (الله) ای نوحه! بيشکه چه هغه ځوی نه دی له اهله ستا (چه مؤمنين دی) بيشکه دی (خاوند د) عمل ناکاره دی نو سوال مه کوه له مانه د هغه څيز چه نه وی تاته په هغه څيز کښې څه علم پوه، بيشکه زه پند درکوم تاته چه (نه) شي ته له جاهلانو (په دی ناجائز سوال سره)

**تفسير:** نوح عليه السلام دغه عرض په کوم وقت کښې کړی دی؟ د کنعان له ډوبيدلو څخه پخوا؟ يا وروسته له هغه؟ دغه دواړه احتمالات شته! دوهم د کنعان د منافقی اوضاعو او اطوارو د ليدلو په غلط فهمی سره ښائی چه هغه به ئی مومن ګڼلی وی يا به ئی کافر پيژندلی وی. او د رب‌العزت جل جلاله په دربار کښې داسې سؤال به ئی کړی وی. د دغو دواړو احتمالاتو امکان شته که ئی مؤمن ګڼلی وی، او له غرقيدلو څخه ئی پخوا عرض کړی وی نو مقصود به ئی د ده د اضطرابی کيفيت اظهار، او د پاک الله له حضوره د هغه د نجات سرشته او انتظام وی او که له ډوبيدلو څخه وروسته دغه وينا شوی وی، نو محض د دغې معاملې د اصلي حقيقت د معلومولو په غرض خپل خلجان يا اشکال به ئی ور وړاندی کړی وی. يعنی يا الله العالمينه! تا خو زما د کورنی د نجات وعده راسره کړی وه، او کنعان د مؤمن توب لامله (له وجې) د «الامن سبق عليه القول» په استثناء کښې ظاهراً نه ؤ داخل، نو بيا د هغه د مغروقيت راز به څه وی؟ بلا شبهه ستا وعده حقه ده هيڅيا ته له سره داسې کوم خيال نشي پيدا کيدی چه معاذ الله تا

وعده خلافي کړی ده. ته «احکم الحاکمين» او مطلق شهنشاه ئی که څوک ستا د احکامو په راز وپوهيږی او که نه پوهيږی په دواړو صورتونو کښی هغه حق دی او هيڅوک هيڅ حق نه لری چه ستا د فيصلی په مقابل کښی دم ووهلی شی يا تا په وعده خلافي مجبور کړی. نه د چا دا منصب دی چه ستا د ناطق حکم په متعلق څه تنقيد وکړی شی. فقط د قلبی اطمينان دپاره د استعلام او استفسار په ډول (طريقه) د دغی واقعی راز معلومول غواړم. جواب ئی داسی واوريد چه دی ستا له هغی کورنی څخه نه ؤ چه د دوی د نجات وعده درسره شوی وه، بلکه په «الامن سبق عليه القول» کښی شامل دی. ځکه چه د هغه عمل خراب دی ته د ده له کفر او شرک څخه خبر نه ئی د تعجب ځای دی چه ته سره د نبوت له فراسته او رڼا او د کفر د صريحو آثارو د موجوديت سره د يوه کافر د احوالو په نسبت پوره معلومات نه لری، او تر اوسه پوری د هغه حال تاته مشتبه دی. د هغه سری واقعی احوال چه تاته نه وی معلوم، نو د هغه په باره کښی له مونږه داسی نامناسبه رعايت، يا دا ډول (طريقه) کيفيت مه غواړه! مقربينو ته وړ (مستحق) او لائق نه دی چه بی له فکره او انديښنی، او وړاندی او وروسته کتلو، د ادب ناپيژندونکو جاهلانو په شان خبری وکړی.

ډير افسوس دی د ازل په بد قسمت

چه بدليږی نه د چا په شفاعت

چه نوح خلاص نه که خپل ځوی د طوفانه

بخپل ځان ويره کوه په هر ساعت

د دی آيت دغه تقرير په هغه صورت کښی دی چه نوح عليه السلام کنعان مؤمن ګڼلی وی. او که ئی کافر ګڼلی وی نو ښائی د دی غوښتنی يا سؤال به دغه منشاء وی چه د انجاء په ذکر کښی څرنګه چه اهل ئی له عامو مؤمنينو څخه بيل ذکر فرمايلی ؤ. له هغه څخه نوح عليه السلام داسی خيال کړی ؤ چه زما اهل ته له دغه دنيوی عذاب څخه د محفوظيت شرط ايمان نه دی. او «الامن سبق عليه القول» مجمل ؤ نو ځکه ئی مصداق تعين نشو کړی. بناء عليه د پلارتوب د شفقت په جوش کښی ئی عرض وکړ چه «يا الله العالمينه!» زما ځوی يقيناً زما په اهل کښی داخل دی چه د هغه د نجات وعده تا فرمايلی ده. نو بيا ولی هغه غرقاوه شی. يا غرق کړی شوی دی؟ جواب وروروسيد چه ستا ړومبی مقدمه «ان ابنی من اهلی» غلطه ده، د هغه اهل د ژغورنی (بچ کولو) وعده چه شوی ده، دی په هغی کښی نه دی داخل، ځکه چه د ده اعمال او چاری ډيری خرابی دی او هم د «الامن سبق عليه القول» د مصداق څه علم او پوه له تا سره نشته چه هغوی کوم خلق دی؟ نو بيا د هغه شی علم چه له تا سره نشته، د هغه په نسبت د داسی جګړی په رنګ سره سؤال يا غوښتنه کول تاته له سره وړ (لائق) او مناسب نه دی.

---

قَالَ رَبِّ إِنِّيٓ أَعُوذُ بِكَ أَنۡ أَسۡـَٔلَكَ مَا لَيۡسَ لِي

بِهٖ عِلۡمٌ ؕ وَاِلَّا تَغۡفِرۡ لِیۡ وَتَرۡحَمۡنِیۡۤ اَكُنۡ مِّنَ الۡخٰسِرِیۡنَ ﴿۴۷﴾

وویل (نوح) ای ربه زما بیشکه زه پناه نیسم په تا پوری له دی چه سؤال وکړم له تانه د هغه څیز چه نشته ماته په هغه څیز علم پوه، او که مغفرت ونه کړی ته ماته او رحم ونه کړی پر ما نو شم به زه له زیانکارانو

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب لیکی «انسان د همغی خبری پوښتنه کوی چه ورته نه ده معلومه لیکن ښائی چه د مسؤل منه مرضی ځان ته معلومه کړی دا ښه کار نه دی چه د لوی مرضی ته نه گوری او تری پوښتنه کوی» مرضی ئی ولی نه وه هغه مو اوس ولیکل. نوح علیه السلام د کبریاء په لوی دربار کښی عرض وکړ چه ای ربه زما بیشکه زه پناه نیسم په تا پوری چه سؤال وکړم له تانه د هغه څیز چه نشته ماته په هغه کښی پوه او علم او که مغفرت ونه کړی ته ماته او رحم ونه کړی پر ما نو شم به زه له زیانکارانو. یعنی حضرت نوح علیه السلام سخت وویریده او ډیر وریږدیده (ورپیده)، او ژر ئی توبه وویسته لیکن داسی ئی ونه ویل چه بیا به داسی نه کوم چه په هغه کښی دعوی وځی بنده څه مقدور لری. ده ته ښائی چه له الله تعالیٰ څخه پناه وغواړی چه له ما څخه به بیا داسی کار صادر نشی، او په زړه کښی د هغه د نه کولو عزم ولری د حضرت آدم او یونس علیهما السلام او نورو د توبی کوم الفاظ چه په پاک قرآن کښی نقل شوی دی په هغو کښی هم دغه ادب ملحوظ شوی دی.

قِیۡلَ یٰنُوۡحُ اهۡبِطۡ بِسَلٰمٍ مِّنَّا وَبَرَكٰتٍ عَلَیۡكَ وَعَلٰۤی اُمَمٍ
مِّمَّنۡ مَّعَكَ ؕ وَاُمَمٌ سَنُمَتِّعُهُمۡ ثُمَّ یَمَسُّهُمۡ مِّنَّا عَذَابٌ اَلِیۡمٌ ﴿۴۸﴾

وویل شو ای نوحه کوز شه (له دی بیړی) سره له سلامتی له جانبه زمونږ او سره له برکتونو (زمونږ له جانبه) پر تا او پر څو فرقو له هغه چا نه چه له تا سره دی، او څه نوری فرقی (کافری له اولادی د هغه چا چه له تا سره دی) ژر به نفع ورکړو هغوی ته (په دی دنیا کښی) بیا به ورسیږی دوی ته زمونږ له جانبه عذاب دردناک (په آخرت کښی په سبب د کفر)

**تفسیر:** یعنی له بیړی څخه په «جودی» باندی بیا له «جودی» څخه پر ځمکه ښکته شول، برکات او سلامتی وروسته له دی نه پر تاسی او پر هغو اقوامو به وی چه ستاسی له ملگرو څخه پیدا کیږی. اوس چه ځمکه د طوفان له سببه بیخی خرابه او ویجاړه شوی ده الله تعالیٰ به ئی بیا

ودانوی، او د هغه رونق سینګار ته به بیا عودت ورکوی. د «بسلام» په لفظ ګواکی حق تعالیٰ تسلی فرمایلی ده چه بیا به پر ګردو (تولو) انسانی نوعو پخوا له قیامت داسی عمومی هلاکت نه دی راتلونکی مګر ځینی فرقی به هلاکیږی.

تِلْكَ مِنْ أَنْبَآءِ الْغَيْبِ نُوحِيهَآ إِلَيْكَ ۖ مَا كُنتَ تَعْلَمُهَآ أَنتَ وَلَا قَوْمُكَ مِن قَبْلِ هَٰذَا ۖ فَاصْبِرْ ۖ إِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِينَ ﴿٤٩﴾

دغه (قصه د نوح) له ځینو اخبارونو د غیب ده چه رالیږو هغه (اخبار) تاته (ای محمده! په وحی سره)، نه وی ته چه پوهیدی په دی قصی (نه) ته او نه قوم ستا پخوا له دی (اخباره زمونږ)، نو صبر کوه (په ایذاء او تبلیغ ته دی دوام ورکړه)، بیشکه چه عاقبت (ښه خاتمه) دپاره د پرهیزګارانو ده.

**تفسیر:** یعنی دغه د نبوت له دلائلو څخه دی چه د یوه امی له ژبی څخه د سابقه ؤ اممو داسی مستند او مفصل واقعات درآوروی. (او له ځینو اخبارو د غیبو څخه دی په وحی سره خبروی، نو صبر وکړه په ایذاء د قوم او تبلیغ ته دی دوام ورکړه بیشکه چه عاقبت ښه خاتمه دپاره د پرهیزګارانو ده).
همغسی چه د نوح علیه السلام او د ده د ملګرو خاتمه ښه شوه، ستاسی د ملګرو مستقبل هم دیر روڼ او له بری او کامیابی څخه ډک دی. تاسی د کفارو پر ایذاؤ صبر وکړئ مه ویریږئ او مه خفه کیږئ لکه چه نوح علیه السلام نهه نیم سوه کاله صبر وکړ.

وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا ۚ قَالَ يَٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥٓ ۖ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا مُفْتَرُونَ ﴿٥٠﴾

او لیږلی ؤ مونږ قوم د عاد ته (قومي) ورور د دوی هود، وویل (هود) ای قومه زما عبادت کوئ (یوائی) د الله (ځکه چه) نشته تاسی ته هیڅ برحق معبود غیر له الله نه، نه یئ تاسی مګر دروغ تړونکی (پر الله پوری په دعوی د شرک کښی)

**تفسیر:** (افتراء مو دا ده چه وایئ) چه د تیږو (ګټو) بت هم بااختیاره حاکم بلکه معبود دی.

د اعراف په سورت کښې هم د هود د قوم قصه تیره شوی ده.

يٰقَوْمِ لَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا ۗ اِنْ اَجْرِىَ اِلَّا عَلَى الَّذِىْ فَطَرَنِىْ ۗ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿٥١﴾

ای قومه زما نه غواړم له تاسی پر دی تبلیغ د رسالت څه اجر (مزدوری)، نه دی اجر (مزدوری) زما مګر پر هغه الله چه پیدا کړی ئی یم زه، آیا نو عقل نه کوئ تاسی (چه حق له باطل او رښتین له دروغجن څخه بیل کړئ).

**تفسیر:** یعنی ستاسی مال ته زه څه ضرورت نه لرم. زما د ګردو (ټولو) دنیوی ضروریاتو او د اخروی اجرونو او ثوابونو کفیل پاک الله دی چه زما خالق، فاطر، پیدا کوونکی دی. دغه خبره هر یوه نبی خپل قوم ته کړی ده څو پند او نصیحت ئی بی لوثه او مؤثر شی، او خلق د هغه ربړ (تکلیف) او محنت په دنیوی طمعی محمول ونه کړی. یعنی تاسی دومره ناپوه او غبی یئ چه په دومره غټی خبری باندی هم نه پوهیږئ چه هغه سړی ته چه بی له طمعی او بی له غرضه تش د زړه سوی او د خیر غوښتلو له سببه ستاسی د دارینو د فلاح خبری کوی، خپل دښمن او بدخواه ګڼئ، او له هغه سره تل منګولی لګوئ او په جګړه ورسره اخته او بوخت یئ.

وَيٰقَوْمِ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ يُرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا وَّيَزِدْكُمْ قُوَّةً اِلٰى قُوَّتِكُمْ وَلَا تَتَوَلَّوْا مُجْرِمِيْنَ ﴿٥٢﴾

او ای قومه زما مغفرت وغواړئ (له شرکه) له رب خپل بیا رجوع وکړئ په طرف د دغه (الله په طاعت سره) چه وبه لیږی (الله له جانبه د) آسمان پر تاسی (باران) اوریدونکی (په شیبو شیبو) او در زیات به کړی الله تاسی ته قوت پر قوت ستاسی او مخ مه ګرځوئ تاسی (له ایمانه او توبی) حال دا چه ګنهګاران اوسیږئ.

**تفسیر:** د دغی جملی تفسیر د دغه سورت په ۳ آیت اوله رکوع یعنی په شروع کښې تیر شوی دی. یعنی موقع په موقع ښه بارانونه اوروی څرنګه چه دغه قوم له کښتونو (فصلونو) او باغونو او نورو شیونو سره ډیره مینه او علاقه درلوده (لرله)، نو ځکه د ایمان راوړلو همغسی ظاهری فوائد

او برکات ئی بیان فرمایلی دی چه د دوی په حق کښې په خصوصي ډول (طریقه) سره د تشویق او ترغیب موجب شي. مفسرین لیکی چه دغه خلق له ډریو کالو د وچکالی (سوکړی) او د باران د امساک په مصیبت کښې اخته ؤ، هود علیه السلام وعده وکړه که تاسی ایمان راوړئ او د پاک الله دربار ته رجوع وکړئ نو دغه مصیبت به له تاسی څخه لرې کیږی. او په راز راز (قسم قسم) نعمت، بخششونو او راحت به مخامخ کیږئ. او د پاک الله په انواع د الطاف، اقسام د اعطاف سر لوړی مومئ مالی او بدنی قوت به مو زیاتیږی په اولاد به مو برکت شي په خوښی او خوشالی کښې به مو ترقی وشی، او له مادی قوت سره په روحانی او ایمانی قوت کښې به مو هم اضافه کیږی. په دی شرط سره چه د پاک الله په لوری رجوع وکړئ او د مجرمانو په شان د الله تعالیٰ له اطاعته او انقیاده مخ ونه گرځوئ.

قَالُوْا يٰهُوْدُ مَا جِئْتَنَا بِبَيِّنَةٍ وَّمَا نَحْنُ بِتَارِكِيْٓ اٰلِهَتِنَا عَنْ قَوْلِكَ وَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿٥٣﴾

وویل دوی ای هوده نه دی راوړی تا مونږ ته دلیل ظاهر او نه یو مونږ پریښودونکی د (عبادت د) خدایانو خپلو له جهته د وینا ستا او نه یو مونږ پر تا باندی ایمان راوړونکی (په نبوت ستا).

**تفسیر:** یعنی دغه خو ښکاره ضد، عناد او سرکشی ده چه دوی ویل چه تاسی کوم واضح سند او دلیل د خپل صداقت په نسبت نه دی راوړی، هر هغه نبی چه د پاک الله له جانبه د نبوت پر عهده فائز کیږی. نو ضرور دی چه د دغه تقرر دپاره کوم سند او اعتمادنامه ورته ورعطا کړی، لکه چه په حدیث کښې دی «د هر نبی الله سره چه مبعوث شوی دی داسی واضحه نښه هم لیږلی شوی ده چه که انسان پری ایمان راوړی، راوړی ئی شی» نو ځکه یقیناً ویلی شي چه هود علیه السلام به هم هغه خپله نښانه وړاندی کړی وی مگر دغو خلقو به د ضد، عناد، سرزوری او بی حیائی لامله (له وجی) هغه نه وی منلی. او هم داسی به ئی ویل چه تاسی کومه ښکاره نښه نه ده راوړی ښائی چه داسی مراد به ئی درلود (لرلو) چه داسی نښه دی نه ده راوړی چه دا گرد (تول) له ورمیږو (مرو) څخه ونیسی. او پر ایمان راوړلو ئی مجبور کړی په هر حال مونږ تش ستا په وینا سره خپل معبودان نشو پریښودی، او ستا پر رسالت له سره ایمان نشو راوړی.

إِنْ نَّقُوْلُ اِلَّا اعْتَرٰىكَ بَعْضُ اٰلِهَتِنَا بِسُوْٓءٍ ؕ قَالَ اِنِّيْٓ اُشْهِدُ اللّٰهَ

وَاشْهَدُوٓا۟ أَنِّى بَرِىٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ ﴿٥٤﴾ مِن دُونِهِۦ ۖ فَكِيدُونِى جَمِيعًا ثُمَّ لَا تُنظِرُونِ ﴿٥٥﴾ إِنِّى تَوَكَّلْتُ
عَلَى ٱللَّهِ رَبِّى وَرَبِّكُم ۚ مَّا مِن دَآبَّةٍ إِلَّا هُوَ ءَاخِذٌۢ بِنَاصِيَتِهَآ ۚ إِنَّ رَبِّى عَلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٥٦﴾

نه وایو موږ (د تا په حق کښې) مګر (دا لفظ وایو) چه رسولی دی تاته ځینو خدایانو زموږ څه ضرر (لیونتوب)، نو وویل هود بیشکه زه شاهد کوم الله او شاهدان شئ تاسی (هم) چه بیشکه زه بیزار یم له هغو خدایانو چه شریکوئ ئی (له الله سره). غیر له الله نو حیلی (تدبیرونه) جوړی کړئ تاسی (هلاک) زما ته تول بیا نو مهلت مه راکوئ ماته بیشکه ما توکل کړی دی پر (هغه) الله چه رب زما او رب ستاسی دی، نشته هیڅ تلونکی (ذی روح خوځیدونکی په ځمکه کښې) مګر هم دغه (الله) دی نیوونکی له (ویښتو د وچولی (تندی) د ده، بیشکه رب زما په لاره سمه برابره (حق او عدل) دی. (یا په حقی لاری سړی برابروی).

**تفسیر:** دغه چتی (بیکاره) خبری چه ته ئی کوی، او ګرد (تول) جهان بی وقوفه او ناپوه بولی او له خپله ځانه سره ئی دښمنان کوی. زموږ خیال دا دی چه زموږ له معبودانو به کوم یوه څه رنځ یا ربړ (تکلیف) درپیښ کړی وی او له تا څخه ئی لیونی او پاګل او مجنون جوړ کړی دی (العیاذ بالله) ته چه د لیونیانو په شان خبری کوی، او د هغوی له عبادت څخه مو منع کوی او هغوی ته بدی او ردی خبری کوی نو هغوی تاته د دغو بیادبو او سپین سترګیو او ګستاخیو په بدل کښې سزا درکړی ده چه اوس بیخی د لیونیانو په شان خبری او اتری کوی نو هود علیه السلام د دغو مشرکانو په جواب کښې یوه خورا (ډیر) موثره تردیدیه وینا وکړه چه لنډه ئی دا ده هغه بیچارګان د تیږو (ګټو) او نورو شیانو بتان ماته څه ربړ (زحمت) او تکلیف رارسولی شی تاسی چه له ګردو (تولو) څخه زورور، قوی، او طاقتور په نظر راځئ که د خپلو معبودانو له فوجونو سره یو ځای پر ما یوائې یو سړی په پوره قوت، او قدرت ګرد (تول) سره په یوه وقت کښې ناڅاپه حمله او یرغل راوړئ، نو یقین وکړئ چه زما یوه ویښته ته به هم څه نقصان او زیان ونشئ رسولی.

ښه واورئ چه زه پاک الله شاهدوم او اعلان کوم او تاسی هم شاهدان اوسئ چه زه ستاسی د دغو دروغو معبودانو څخه قطعاً بیزاره یم. تاسی ګرد (تول) سره راتول شئ، او هغه ربړ (تکلیف) او ضرر رسول چه ماته ئی رسولی شئ راورسوئ او لږ څه قصور او کوتاهی هم پکښې مه کوئ او نه یوه شیبه مهلت راکړئ او ښه وپوهیږئ، چه زما اعتماد پر همغه (وحده لاشریک له الله) دی چه زما رب دی، او هغه هم ستاسی رب او مالک او حاکم دی. اګر که تاسی له بدفهمی څخه نشئ

پوهیدی چه نه یواځی زه او تاسی بلکه هر وړوکی او لوی شی چه په ځمکه کښی ګرځی او خوځیږی او شته سره له آسمانونو او هغو شیانو چه په دوی کښی دی او شته، ګرد (تول) د پاک الله په قبضه او تصرف کښی دی کواکی د دوی د سرونو د ویښتو سرونه هم د الله تعالیٰ په قدرت کښی دی، هر چیری ئی چه اراده وی په همغه لوری ئی په کشولو سره بیائی هیڅوک له سره هیڅ مجال نه لری چه د ده د اختیار له قبضی څخه د باندی ووځی، یا چیری وتښتی نه ظالم، کاذب د ده له نیولو څخه خلاصیدی شی، او نه عادل صادق چه د ده په پناه کښی اوسیږی رسوا کیږی بلاشبهه زما پروردګار د عدل او انصاف په سمه لاره دی، او د ده له لوری نه ظلم کیږی او نه چاته بی موقع انعام او اکرام ورکوی. خپلو بندګانو ته ئی د نیکی او خیر کومه لاره چه ښوولی ده بیشکه پر هغی باندی له تلو څخه د الله تعالیٰ په حضور رسیږی. او د دغی لاری د تلونکی د حفاظت دپاره دی هر وقت حاضر دی.

فَإِن تَوَلَّوْا فَقَدْ أَبْلَغْتُكُم مَّآ أُرْسِلْتُ بِهِۦٓ إِلَيْكُمْ ۚ وَيَسْتَخْلِفُ رَبِّى قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّونَهُۥ شَيْـًٔا ۚ إِنَّ رَبِّى عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ حَفِيظٌ ﴿٥٧﴾

نو که مخ واړوئ تاسی (له ایمانه او کلک اوسئ په عصیان) نو په تحقیق رسولی دی ما تاسی ته هغه پیغام چه رالیږلی شوی وم هغه سره تاسی ته (چه توحید دی، نو هلاک به مو کړی الله) او خلیفه به وګرځوی رب زما (رابه ولی ستاسی په ځای) یو قوم غیر له تاسی، او ضرر به ونه رسوئ تاسی الله ته د هیڅ څیز، بیشکه رب زما پر هر څیز (د اعمالو ستاسی او نورو) ښه ساتونکی (شاهد) دی.

**تفسیر:** یعنی سره له داسی صافی او ښکاره خبری د آوریدلو که بیا هم د الله تعالیٰ وحدانیت او زما رسالت نه منئ، نو ماته هیڅ یو ضرر او نقصان نشئ رسولی. ځکه چه ما خپل د تبلیغ فرض پوره کړی دی اوس نو تاسی د خپل ځان فکر وکړئ ضرور دی چه د داسی عناد او ضد، او سرتمبګی (سرکشی) او تعصب په مقابل کښی له آسمانه پر تاسی عذاب نازل شی، او تاسی ګرد (تول) سره هلاک کړی. ځکه چه د پاک الله ځمکه ستاسی له تباهی څخه نه ورانیږی او نور خلق به ستاسی د اموالو او نورو وارث وګرځاوه شی او ستاسی قصه به بیخی پای (آخر) ته ورسیږی په یاد ئی ولرئ چه تاسی پاک الله او د پاک الله رسولانو ته هیڅ نقصان او ضرر نشئ ور رسولی او نه ئی پر تاسی ابدی ملک او سلطنت خرابیږی کله چه دی پخپله د هر شی محافظ او ساتونکی دی، نو د هر قابل حفاظت شی د حفاظت سامان همغه پخپل کامل قدرت سره پیدا کوی.

وَلَمَّا جَآءَ أَمْرُنَا نَجَّيْنَا هُودًا وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَنَجَّيْنَاهُم مِّنْ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴿٥٨﴾

او کله چه راغی امر (حکم عذاب) زمونږ نجات مو ورکړ (وموساته) هود او هغه کسان چه ایمان ئی راوړی ؤ له ده سره (له هغه عذابه) په رحمت سره له نزده خپله (نه په عمل د دوی)، او نجات مو ورکړ او وساتل مونږ دوی له عذابه سخته

**تفسیر:** یعني اوه شپې او اته ورځې مسلسل سخته سیلی چلیده. لکه چه د «اعراف» په سورت کښې مو لیکلی دی. کورونه ئی ګرد (تول) سره ونړیدل سقفونه (چتونه) پشتونه ئی تول والوتل ونی له بیخه ووتلی او ډیری لری لری سره ولویدلی، باد هم داسی زهرناک او مسموم ؤ چه د ساکښانو (جاندارو) په پوزه کښې به داخلیده او د لاندنی مخرجه د باندی ووت، او جسمونه به ئی توتی توتی کول له دغه هولناک عذابه مونږ هود علیه السلام او د ده ملګری چه په آخره کښې تر څلورو زرو پوری رسیدلی وو بیخی محفوظ وساتل، او د صالح عمل او د ایمان په برکت د آخرت له درانه عذابه مو هم هغوی وساتل او نجات مو ور په برخه کړ.

وَتِلْكَ عَادٌ جَحَدُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ وَعَصَوْا رُسُلَهُ وَاتَّبَعُوا أَمْرَ كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ ﴿٥٩﴾

او دغه (په قبرونو کښې پراته) عادیان دی چه منکران شوی ؤ په آیتونو د رب خپل او نافرمانی کړی وه دوی له رسولانو د دغه (الله) او تابع شوی ؤ دوی د امر (حکم) د هر سرکښه عناد والا

**تفسیر:** یعنی د دوی ورانو مینو او کندوالو (کندرو) ته د عبرت په سترګو وګوره! چه د هغو عادیانو د هستوګنی ځای دی چه د دوی مشرانو په ډیر زور او شور له پاک الله سره مقابله کړی وه او د ده د نبی علیه السلام له احکامو څخه ئی سرونه غړولی وو. او د هغو کشرانو د دغو لویو شیطانانو متابعت وکړ چه بالاخر دواړه تباه او برباد شول.
**تنبیه:** «رسله» ئی ځکه وفرمایل چه د یوه رسول تکذیب د ګردو (تولو) رسولانو تکذیب دی. ځکه چه دوی ګرد (تول) په توحید او نورو دینی اصولو کښې سره متفق او یو د بل مصدق دی.

وَاُتْبِعُوْا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً وَّيَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اَلَاۤ اِنَّ عَادًا كَفَرُوْا رَبَّهُمْ ؕ
اَلَا بُعْدًا لِّعَادٍ قَوْمِ هُوْدٍ ﴿٦٠﴾

او ولیږلی شو (په دوی پسی) په دغی دنیا کښی لعنت (چه هلاک کړ شول په سخت باد)، او په ورځ د قیامت کښی (هم په اور کښی سوځی)، خبردار شئ بیشکه عادیان کافران شوی ؤ په رب خپل، بیا واورئ خبردار شئ چه لری والی دی (له رحمته د الله نه) عاد قوم د هود ته

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ لعنت په دنیا کښی په دوی پسی ګرځی، هر چیری چه لاړ شی هغه هم ورسره ځی او تر قیامته پوری هر چیری چه د هغوی ذکر وی لعنت به هم ورسره وی بلکه له قیامته وروسته هم هغه لعنت له دوی ځنی نه جلا (جدا) کیږی او د لعنت غاړکی (طوق) به تل د دوی په غاړو کښی لویدلی وی ځینو مفسرینو ویلی دی چه د قیامت په ورځ کښی به داسی غږ کیږی ﴿ اَلَاۤ اِنَّ عَادًا كَفَرُوْا ﴾ الآیة -

**تنبیه:** له «عاد» سره د «قوم هود» لفظ یا خو د دی لامله (له وجی) وراضافه شوی دی چه د دواړو تصور یو ځای د آوریدونکو په دماغ کښی راشی، یعنی د هود څه حال ؤ، او دا هم همغه قوم ؤ چه حشر ئی داسی شو او ممکن دی چه پر دی ئی تنبیه ورکړی وی چه عاد دوه دی یو اولیٰ او بل اخریٰ نو ځکه ئی په بل ځای کښی فرمایلی دی ﴿ وَاَنَّهٗۤ اَهْلَكَ عَادًا ۨالْاُوْلٰى ﴾ (٢٧ جزء د النجم ٥٠ آیت ٣ رکوع) دلته عاد اولیٰ مراد دی چه د هغوی دپاره هود علیه السلام مبعوث شوی ؤ او د هغو قصه د «الاعراف» په ٩ رکوع ٨ جزء کښی تیره شوی ده والله اعلم.

وَاِلٰى ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ صٰلِحًا ۘ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ هُوَ اَنْشَاَكُمْ مِّنَ
الْاَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيْهَا فَاسْتَغْفِرُوْهُ ثُمَّ تُوْبُوْۤا اِلَيْهِ ؕ اِنَّ رَبِّيْ قَرِيْبٌ مُّجِيْبٌ ﴿٦١﴾

او (لیږلی ؤ موږ) ثمودیانو ته (قومی) ورور د دوی صالح. وی ویل ای قومه زما عبادت کوئ (یواځی) د الله نشته تاسی ته هیڅ برحق معبود غیر له ده، هم دغه (الله) پیدا کړی یئ تاسی له ځمکی (چه آدم یا ماده د نطفی ده) او اوږده عمرونه ئی درکړی دی تاسی ته په دغی (ځمکی) کښی نو مغفرت

وغواړئ له ده ځخه (او په وحدانيت ئې ومنئ) بيا رجوع وکړئ ده ته (له عبادتونو د نورو،) بيشکه رب زما ډير نژدې دی (په رحمت او په فضل خپل سره) ښه قبلوونکی د دعا دی.،

**تفسير:** د دوی قصه هم په ۸ جزء د «الاعراف» په لسمه رکوع کښې تيره شوی ده. يعنې ړومبی ئې آدم له خاوری ځخه پيدا کړ، بيا ئې له ځمکې ځخه اغذيه پيدا کړه چه له هغو ځخه نطفه او نور پيدا کيږی او د انسان د پيدا کيدلو ماده ده. يعنې پيدا ئې کړل، باقی ئې پريښودل او د بقاء سامان ئې ور برابر کړ د ځمکې د ورانولو ترکيبات ئې وروښوول، او تدابير ئې ور الهام کړل. کله چه هغه داسې يو منعم او محسن دی نو ښائې چه انسان د ده په لوری د ايمان او اطاعت رجوع وکړی او له کفره او شرکه او نورو گناهونو ځنې چه کړی ئې دی توبه وکړی، دی مونږ ته ډير نژدې دی او زمونږ هره خبره پخپله آوری او هغه توبه او استغفار چه د زړه له صدق وکړ شی هغه آوری او قبلوی ئې.

قَالُوا يَٰصَٰلِحُ قَدْ كُنتَ فِينَا مَرْجُوًّا قَبْلَ هَٰذَا ۖ أَتَنْهَىٰنَآ أَن نَّعْبُدَ مَا يَعْبُدُ ءَابَآؤُنَا وَإِنَّنَا لَفِى شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُونَآ إِلَيْهِ مُرِيبٍ ﴿٦٢﴾

وويل ثموديانو ای صالحه! په تحقيق وې ته په مونږ کښې اميد کړی شوی پخوا له دی (دعوی د نبوت يعنې له تانه مو د پوهې هيله (اميد) درلوده «لرلو») آيا ته مو منع کوی له دی چه عبادت وکړو د هغو بتانو چه عبادت به ئې کاوه پلرونو زمونږ او بيشکه مونږ خامخا په شک کښې لويدلی يو له هغه توحيده چه ته بولې مونږ هغه ته داسې شک چه واقع کوونکی دی د زړونو په اضطراب کښې

**تفسير:** يعنې له تا ځخه زمونږ هيله (طمع) او اميد داسې کيده چه ته به په راتلونکی زمانی کښې داسې لوی فاضل او ښه سړی کيږی چه د معززو او مشرانو په ځای به ورسيږی. او د ملک او د قوم به د سترگو تور وگرځی. د تا له وچولی (تندی) ځخه رشد او صلاح آثار ښکاريدل او د گردو (تولو) توقع داسې کيده چه په قريب مستقبل کښې به لويه فائده له تا ځنې نورو ته راورسيږی. په تدبير، صلاح او مشوری د خپلو ورونو په لار ښوونه به بوخت (مشغول) کيږی او د زړه په قوت سره د خپل پلارنی مذهب په حمايت او تائيد کښې به زيار (کوشش) کوی! په رښتيا سره چه ابتداء تاته بت پرستی مبغوضه وه او عمومی مذهب ځخه بيل او جلا (جدا) گرځيدی، خو بيا هم مونږ ستاسې په فطری قابليت او طبعی پوهې اعتماد درلود (لرلو)، او هيله

(امید) مو کوله چه وروسته د عقل د پوخوالي او د تجربې د زیاتوالي به ته دا خپله رویه پریږدې، لیکن د افسوس ځای دی چه تا یو په یو په داسې خبرو باندې شروع وکړه چه د هغو په آوریدلو سره زمونږ پر هغه ګردو (تولو) هیلو (ارزوګانو) او امیدونو د مایوسۍ اوبه توی شوی تا زمونږ د آباؤ او اجدادو او د قدیمي مذهب په خلاف علانیه او ښکاره جهاد شروع کړ او زمونږ هغه ګرد (تول) توقعات دې په خاورو او ایرو کښې وغورځول! آیا ته دا غواړې چه مونږ فقط یو الله ومنو؟ او نور ګرد (تول) خپل پخواني معبودان پریږدو؟ زمونږ په نزد د پخوانیو مشرانو په خلاف د داسې مسلک اختیارول سخت شبه ناک څیز دی، چه زمونږ زړونه ئې له سره نه مني په «موضح القرآن» کښې دی «ته داسې هښیار راښکاریدې چه د خپلو پلرونو او نیکونو دین روښانوې مګر ته ئې اوس ورانوې».

قَالَ يَٰقَوۡمِ أَرَءَيۡتُمۡ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّي وَءَاتَىٰنِي مِنۡهُ رَحۡمَةٗ فَمَن يَنصُرُنِي مِنَ ٱللَّهِ إِنۡ عَصَيۡتُهُۥۖ فَمَا تَزِيدُونَنِي غَيۡرَ تَخۡسِيرٖ ﴿٦٣﴾

وویل (صالح) ای قومه زما آیا وینئ تاسې یعنې خبر راکړئ ماته که یم زه په (برهان) ښکاره له جانبه د رب خپل او راکړی ئې وی ماته له نزده خپله رحمت (نبوت) نو څوک به مدد وکړی له ما سره (او خلاص به مې کړی) له عذابه د الله که نافرماني وکړم زه له ده نه (په نه رسولو د احکامو کښې او عجب دا چه زه بولم تاسې الله ته او تاسې مې بولئ بتانو ته)، نو نه به زیاتوئ ماته غیر له نقصانه

**تفسیر:** یعنې ستاسې د شک او د شبهې لامله (له وجې) زه یوه داسې صافه او سمه لاره څرنګه پریښودی شم پاک الله ماته عقل او پوه راکړی ده او پخپل عظیم رحمت ئې د نبوت منصب راعطا کړی دی. اوس فرض ئې کړئ که زه د پاک الله له احکامو څخه سر وغړوم او د هغو شیانو په تبلیغ او اعلام کښې چه زه ئې په رسولو سره مامور شوی یم سستي وکړم او وئې نه رسوم نو ما به د هغه له سزا او پوښتنې څخه څوک وژغوری (بچ کړی)؟ که زه نافرماني وکړم له الله نه په نه رسولو د احکامو د ده کښې او عجب دا چه زه بولم تاسې الله تعالیٰ ته او تاسې مې بولئ بتانو ته نو نه زیاتوئ تاسې ماته غیر له نقصانه یعنې د دې په ځای چه تاسې د خپل صادق خیر غوختونکي او محسن قدر وپیژنئ ماته داسې مشورې راکوئ چه د خپل تبلیغ له فرائضو او د اسلامي دعوت له چارو څخنې لاس واخلم. او له دې پلوه ماته داسې لوی زیان رارسوئ چه تلافي ئې له سره نه کیږي. ځینو اسلافو د دې جملې مطلب داسې اداء کړی دی چه «ستاسې له دغو خبرو او اترو څخنې په ما کښې بل هیڅ شی نه زیاتیږي پرته (علاوه) له دې یقینه چه تاسې خپل

نقصان کوئ» مګر له سیاقه سره مناسب همغه پخوانی معنی ده.

(کله چه قوم د صالح علیه السلام پس له ډیری جګړی نه له صالح علیه السلام نه معجزه وغوښتله، او په دعا د ده سره اوښه د ګټی نه راووته، او صالح علیه السلام پری په حکم د الله سره حجت ونیوه نو په باب د اوښی کښی ئی وصیت وکړ او داسی ئی وویل:)

وَيَٰقَوۡمِ هَٰذِهِۦ نَاقَةُ ٱللَّهِ لَكُمۡ ءَايَةٗۖ فَذَرُوهَا تَأۡكُلۡ فِيٓ أَرۡضِ ٱللَّهِۖ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٖ فَيَأۡخُذَكُمۡ عَذَابٞ قَرِيبٞ ﴿٦٤﴾ فَعَقَرُوهَا فَقَالَ تَمَتَّعُواْ فِي دَارِكُمۡ ثَلَٰثَةَ أَيَّامٖۖ ذَٰلِكَ وَعۡدٌ غَيۡرُ مَكۡذُوبٖ ﴿٦٥﴾

او ای قومه زما دا اوښه د الله ده (چه پیدا کړی ئی ده) تاسی ته معجزه نو پریږدئ دا (اوښه) چه خوری (څری) په ځمکه د الله کښی (له مباحو وښو څخه او شودی تاسی ته درکوی) او لاس مه وروړئ دی ته په بدی (او که مو بدی ورته اختیار کړه) نو وبه نیسی تاسی عذاب نژدی (یعنی متصل په آزارولو د دی پسی). پس زخمی او مړه ئی کړه هغه (اوښه) نو وویل صالح فائده واخلئ تاسی په کورونو خپلو کښی دری ورځی (له ژوندانه څخه)، دا (راتګ د عذاب په څلورمی ورځی کښی) داسی وعده ده چه هیڅ دروغ پکښی نشته.

**تفسیر:** له حضرت صالح علیه السلام څخه د ده قوم معجزه غوښتی وه چه ده هغه ورروښوده د دی واقعی پوره تفصیل او د الفاظو تشریح د الاعراف په سورت د اتمی پاری په خاتمه کښی لیکلی شوی ده هلته دی بیا وکتلی شی (۷۷ آیت (۱۰) رکوع.

فَلَمَّا جَآءَ أَمۡرُنَا نَجَّيۡنَا صَٰلِحٗا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ بِرَحۡمَةٖ مِّنَّا وَمِنۡ خِزۡيِ يَوۡمِئِذٍۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ ٱلۡقَوِيُّ ٱلۡعَزِيزُ ﴿٦٦﴾

بیا کله چه راغی امر (حکم عذاب) زمونږ نو (وموساته او) نجات ورکړ مونږ صالح ته او هغو کسانو ته چه ایمان ئی راوړی ؤ له ده سره په رحمت (او

فضل) سره له نزده خپله (نه په عمل د دوی) او له رسوائی د دغی ورځی (یا د قیامت)، بیشکه رب ستا هم دی دی قوی (په انجاء د مؤمنانو) ښه غالب (په انفاذ د احکامو او اهلاک د کافرانو).

**تفسير:** کله چه د عذاب حکم ورسید نو مونږ صالح علیه السلام ته نجات ورکړ، او له څه شی څخه مو نجات ورکړ؟ د هغی ورځی له رسوائی څخه، «ومن خزی یومئذ» د «نجینا» شرح او تفصیل دی. یعنی د هر چا په نسبت چه اراده وفرمائی هلاکوی ئی. او د هر چا په نسبت چه اراده وفرمائی ساتی ئی.

وَاَخَذَ الَّذِیْنَ ظَلَمُوا الصَّیْحَةُ فَاَصْبَحُوْا فِیْ دِیَارِهِمْ جٰثِمِیْنَ ﴿٦٧﴾
کَاَنْ لَّمْ یَغْنَوْا فِیْهَا ؕ اَلَاۤ اِنَّ ثَمُوْدَاۡ كَفَرُوْا رَبَّهُمْ ؕ اَلَا بُعْدًا لِّثَمُوْدَ ﴿٦٨﴾

او ونیول هغو کسانو لره چه ظلم ئی کړی وو پر ځانونو خپلو (په کفر سره) چغی (هیبتناکی د جبرئیل) بیا ګهیځ (سحر) وګرځیدل دوی په کورونو خپلو کښی مړه وچ کلک پر ځنګنونو پرمخی پراته. لکه چه نه وو اوسیدلی دوی په دی کورونو کښی (له سره)، واورئ خبردار شئ چه بیشکه ثمودیان کافران شوی ؤ په رب خپل، واورئ خبردار شئ لری والی دی له رحمته ثمودیانو ته.

**تفسير:** یعنی بی‌نامه او بی‌نښانه شول. حضرت شاه صاحب لیکی «پر دوی داسی عذاب راغی چه دوی د شپی ویده وو، چه پرښتی سخته چغه وکړه چه د دوی اینی ځیګرونه وچاودل. په ځینو آیتونو کښی د «رجفة» لفظ راغلی دی یعنی په زلزلی او ریږدیدنی (رپیدنی)سره ووژلی شول په اتم جزء د الاعراف د سورت په ۷۸ آیت (۱۰) رکوع کښی مونږ د دی په متعلق د تطبیق صورت لیکلی دی. یعنی هغه کسان چه د پاک الله له آیتونو او احکامو څخه منکران شوی وو. او دغسی د لعنت مورد وګرځیدل چه تاسی ئی احوال آورئ ښائی چه عبرت تری واخلئ.

وَلَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُنَاۤ اِبْرٰهِیْمَ بِالْبُشْرٰی قَالُوْا سَلٰمًا ؕ
قَالَ سَلٰمٌ فَمَا لَبِثَ اَنْ جَآءَ بِعِجْلٍ حَنِیْذٍ ﴿٦٩﴾

او هرومرو (خامخا) په تحقیق راغلي وو رسولان زمونږ (ملائک) ابراهیم ته په زیری (د څوی او اهلاک د قوم د لوط) نو وویل (ملائکو) سلام (آچوو پر تاسي په سلام آچولو سره)، وویل (ابراهیم) سلام (دی وی پر تاسي) نو ځنډ (ایسارتیا) ئی ونه کړ چه رائی وړ (دوی ته) خسی وریت کړی شوی.

**تفسیر:** د دی سورت د قصصو ترتیب د «الاعراف» له ترتیبه سره موافق دی. یواځی د لوط د قوم له قصی څخه پخوا دلته د ابراهیم علیه السلام لږ څه قصه ئی بیان فرمایلی ده. مګر تعبیر ئی داسی ایښی دی چه داسی تری راښکاری چه اصلی مقصود د لوط علیه السلام د قصی بیانول دی. ځرنګه چه په دغی قصی او د ابراهیم علیه السلام په قصی کښی له څو جهاتو مناسبت او تعلق موندل کیږی نو ځکه د تمهید او توطیی په شان د ابراهیم علیه السلام قصه مذکوره شوه «لوط» علیه السلام د حضرت ابراهیم علیه السلام د ترور ځوی ؤ چه د ده په ملګرتوب ئی له عراقه هجرت کړی ؤ د پرښتو یوه ډله هم دغو دواړو ته ورلیږلی شوی وه، هغه بحث چه حضرت ابراهیم د لوط علیهما السلام د قوم د هلاکت په مسئلی کښی کړی دی، وروسته له دی نه راځی. دغو پرښتو د پیمخو او ښایستوو حسینو او جمیلو ځنګیانو (هلکانو) په شکل د لوط علیه السلام په لوری د تللو په وقت کښی حضرت ابراهیم علیه السلام ته زیری او بشارت ورکړ چه پاک جلیل دی، خپل دوست او خلیل ګرځولی دی. او په دغه زوړتوب کښی د حضرت بی‌بی ساری له ګیډی څخه هلک ورعطا کوونکی دی او هم دغه چه د لوط علیه السلام د قوم د شریرانو او ظالمانو له وجوده عنقریب به دغه دنیا پاکه کړه شی چه د دوی په منځ کښی د حضرت ابراهیم او حضرت لوط علیهما السلام متبعینو ته هیڅ قسم زیان او ضرر نه وررسیږی پرښتو ابراهیم علیه السلام ته سلام واچاوه او ده د هغو د سلام جواب په سلام سره ورکړ، مګر په اوله شیبه (لحظه) کښی ابراهیم علیه السلام دوی ونشو پیژندلی. لکه چه په ابتدائی حالت کښی حضرت لوط علیه السلام هم دوی نه ؤ پیژندلی بلکه د صحیحینو په حدیث کښی راغلی دی چه یو ځلی جبرئیل د انسان په شکل د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم سره سؤال جواب وکړ نو کله چه دی د دوی له حضوره مرخص شو او لاړ، نو دلته دوی مطلع شول چه دغه سائل جبرئیل ؤ، ګواکی تنبیه ورکړه شوه چه انبیاؤ علیهم السلام ته هم د پرښتو او د نورو ضروری علومو علم او پوه د پاک الله له پوهولو څخه په لاس راځی. که پاک الله په کوم وقت کښی د دغو نورو اشیاؤ د مخفی او پټ ساتلو اراده وفرمائی، نو هیڅوک د دی خبری قدرت نه لری چه هغه ځان ته معلوم کړی شی. په هر حال ابراهیم علیه السلام پر دوی د انسانانو خیال وکړ. او د دوی د میلمستیا سررشته (انتظام) ئی هم وفرمایله او یو ښه څربه او چاخ خسی ئی ورته حلال کړ او وریته کړی غوښه ئی ورحاضره کړه.

فَلَمَّا رَآ أَيْدِيَهُمْ لَا تَصِلُ إِلَيْهِ نَكِرَهُمْ وَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً قَالُوا لَا تَخَفْ إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَىٰ قَوْمِ لُوطٍ ﴿٧٠﴾

نو کله چه ولیده (ابراهیم) لاسونه د دوی چه نه رسیږی دغی (وریتی غوښی) ته نو ناآشنا ئی وګڼل (او ونه ئی پیژندل) دوی او په زړه کښی ئی راوسته له دوی نه ویره، وویل (ملائکو) چه مه ویریږه بیشکه چه مونږ لیږلی شوی یو قوم د لوط ته (چه هلاک ئی کړو).

**تفسیر:** آخر دوی څوک؟ او د څه غرض دپاره راغلی دی؟ مونږ دوی ته دودی وروړاندی کوو او دوی تش لاس هم نه ور وړاندی کوی؟ د هغی زمانی له دود، (رواج) دستور سره موافق هغه میلمه چه د خوراک د خوړلو څخه ئی انکار کاوه. داسی ښکاریده چه ګواکی هغه د کوم بد قصد دپاره نه دی راغلی ابراهیم علیه السلام وویریده چه که دوی انسانان دی نو له خوراک څخه د دوی انکار هرومرو (خامخا) کومه معنی او مقصد لری. او که ملائکی دی نو نه دی رامعلوم چه د څه مطلب دپاره رالیږلی شوی دی؟ آیا له ما څخنی کومه غلطی صادره شوی ده؟ یا زما د قوم دپاره ئی کوم نامناسب شی راوړی دی؟ په دغو چرتونو او اندیښنو کښی ده پخپلی ژبی سره داسی اظهار هم وفرمایه ﴿ إِنَّا مِنكُمْ وَجِلُونَ ﴾ (۱٤ جزء د الحجر ٥۲ آیت ٤ رکوع) یعنی مونږ له تاسی څخنی په اندیښنه کښی لویدلی یو عموماً مفسرینو د ابراهیم علیه السلام د خوف هم دغه توجیهات کړی دی. مګر حضرت شاه صاحب زما په نزد دیره ښه او نهایته لطیفه توجیه کړی ده «یعنی هغه د الله تعالیٰ عذاب چه له دغو پرښتو سره ؤ او د غضب شان او د انتقام مظهر ګرځیدلی ؤ او د لوط علیه السلام د قوم په لوری رهی (روان) ؤ د دی طبیعی اثر هم دغه ؤ چه د ابراهیم علیه السلام پر زړه یو راز (قسم) د خوف او خشیت کیفیت طاری شو چه د هغه اظهار ئی په «انا منکم وجلون» سره وفرمایه یعنی مونږ له تاسی داریږو والله اعلم.
(څکه چه په دوی کښی قاعده دا وه د هر چا به چه د بل چا سره په زړه کښی دښمنی وه نو د هغه طعام به ئی نه خوړ بیا چه ملائک د حضرت ابراهیم علیه السلام په ویره باندی پوه شول نو ورته ئی وویل مه ویریږه ! له مونږه بیشکه چه مونږ رالیږلی شوی یو دپاره د هلاکولو د قوم د لوط) یعنی د ویریدلو هیڅ یوه خبره نه ده مونږ ملائک او د لوط علیه السلام د قوم تباه کولو ته لیږلی شوی یو تاسی د هیڅ یو قسم ضرر اندیښنه مه کوئ.

وَامْرَأَتُهُ قَائِمَةٌ فَضَحِكَتْ فَبَشَّرْنَاهَا بِإِسْحَاقَ وَمِن وَرَاءِ إِسْحَاقَ يَعْقُوبَ ﴿٧١﴾

او ښځه د دغه (ابراهیم ساره) ولاړه وه نو وئې خندل (په زوال د خوف یا هلاک د کفارو) نو زیری ورکړ مونږ هغې ته (په ژبې د ملائکو) په (تولد د اسحٰق، او بیا پس له اسحٰق په (تولد د لمسی د ده) یعقوب

**تفسیر:** حضرت بی‌بی ساره رضی الله تعالیٰ عنها چه د میلمنو د خدمت کولو، یا د بل کوم کار دپاره هلته ګوښې (بیله) ولاړه وه، د دی ویری د لری کیدلو لامله (له وجی) خوشاله شوه او وی خندل. الله تعالیٰ پر دغی خوښی نوری خوشالی هم د پرښتو په ژبه ور واورولی چه ته په هم دغه عمر (منګ) کښې د اسحاق علیه السلام په شان یو ځوی مومی او د ده له نسله یعقوب علیه السلام غوندی یو لمسی به هم درعطاء شی چه له هغه څخه یو زورور او لوی قوم (بنی‌اسرائیل) پیدا کیدونکی دی. دغه زیری حضرت بی‌بی ساره ته ځکه واوراوه شو چه د حضرت ابراهیم علیه السلام یو بل ځوی اسمٰعیل علیه السلام د حضرت بی‌بی هاجری له ګیدی لا له پخوا موجود ؤ. د بی‌بی ساره هم دغه تمنا وه که چیری زه هم د ځوی مور شمه مګر د زوړتوب له سببه بیخی بی هیلی (نا امیده) او مایوسه شوی وه. نو دغه ده چه په دی مهال (وخت) کښې ئې داسی زیری واورید. ځینی علماؤ د بی‌بی ساره د خندلو نور توجیهات هم کړی دی مګر ظاهر خو همغه ده چه مونږ د هغه بیان پاس وکړ.
علماؤ له (ومن ورآء اسحٰق یعقوب) څخه داسی استدلال کړی دی چه حضرت اسحٰق علیه السلام ذبیح نه ؤ بلکه حضرت اسمٰعیل علیه السلام ؤ (راجع ابن کثیر)

قَالَتْ يَٰوَيْلَتَىٰٓ ءَأَلِدُ وَأَنَا۠ عَجُوزٞ وَهَٰذَا بَعۡلِي شَيۡخًاۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَيۡءٌ عَجِيبٞ ﴿٧٢﴾

نو وویل (ساره) ای تعجب زما آیا ځیږومه زه (ولد) حال دا چه زه زړه یم (۹۹ کلنه) او دغه (ابراهیم) میړه (خاوند) زما دی زوړ (سل یا ۱۲۰ کلن) بیشکه چه دغه (تولد له دوؤ زړو) یو شی دی ډیر عجیب (عادتاً نه قدرتاً).

**تفسیر:** دلته «یٰویلتیٰ» داسی یو لفظ دی لکه چه زمونږ په محاورو کښې ښځې د حیرت او استعجاب په مواردو کښې «ویش» وائی. یعنی دا ډیر د حیرانی او تعجب ځای دی چه زه په دغه زوړتیا کښې وړوکی وځیږوم، وائی چه د بی‌بی ساری رضی الله تعالیٰ عنها عمر په دغه وقت کښې د (۹۹) کلونو، او د حضرت ابراهیم علیه السلام عمر سل کاله یا له سلو کلونو ځنی هم متجاوز ؤ.
یعنی که داسی وشی چه زه په دغه زوړتوب د ځوی مور شمه، نو دغه عادتاً بیخی یوه نوی او

عجیبه او غریبه خبره به وی

قَالُوٓا۟ أَتَعْجَبِينَ مِنْ أَمْرِ ٱللَّهِ رَحْمَتُ ٱللَّهِ وَبَرَكَٰتُهُۥ عَلَيْكُمْ أَهْلَ ٱلْبَيْتِ إِنَّهُۥ حَمِيدٌ مَّجِيدٌ ﴿٧٣﴾

وویل دغو (ملائکو) آیا تعجب کوی له امره (حکمه) د الله؟ رحمت د الله وی او برکتونه د ده دی وی پر تاسی ای خاوندانو د کورونو (د خلت او نبوت)، بیشکه چه الله ښه ستایلی شوی ښه لویٔ والا دی.

**تفسیر:** یعنی پر هغی کورنی باندی چه پاک الله دومره رحمتونه او برکات ورنازل کری وی او تل ئی دوی د معجزاتو او خوارقو د لیدلو مورد گرځولی وی، آیا دغه خبره هغوی لره د تعجب وړ (مستحق) او لائق کیدی شی؟ بلکه هم دغه د هم دوی تعجب کول پخپله د تعجب وړ (لائق) دی. دوی لره وړ (مستحق) او لائق دغه خبره وه چه د دی بشارت د آوریدلو په مقابل کښی ئی د الله تعالیٰ تحمید او تمجید کری وی چه گردی (تولی) لویٔ او ښیگڼی (فائدی) د ده په ذات او په دربار کښی سره مجموع دی.

**تنبیه:** ځینی محققین لیکی چه په لمونځونو کښی هغه درود چه لولو د هغه الفاظ له دی آیت څخه اقتباس شوی دی.

فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْ إِبْرَٰهِيمَ ٱلرَّوْعُ وَجَآءَتْهُ ٱلْبُشْرَىٰ يُجَٰدِلُنَا فِى قَوْمِ لُوطٍ ﴿٧٤﴾ إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ لَحَلِيمٌ أَوَّٰهٌ مُّنِيبٌ ﴿٧٥﴾ يَٰٓإِبْرَٰهِيمُ أَعْرِضْ عَنْ هَٰذَآ إِنَّهُۥ قَدْ جَآءَ أَمْرُ رَبِّكَ وَإِنَّهُمْ ءَاتِيهِمْ عَذَابٌ غَيْرُ مَرْدُودٍ ﴿٧٦﴾

نو کله چه لاړه له ابراهیم څخه ویره او راغی ده ته زیری (د ځوی او اهلاک د قوم د لوط) نو بیا ئی جگړه کوله (له رسولانو) زمونږ سره په (حق) د قوم د لوط کښی بیشکه ابراهیم خامخا تحمل والا آه کوونکی لوی نرم زړه رجوع کوونکی ؤ (الله ته). ای ابراهیم واوړه له دی جگړی څخه، بیشکه شان دا دی په تحقیق راغلی دی امر حکم د رب ستا (په اهلاک د قوم د لوط)، او بیشکه دوی راتلونکی دی دوی ته عذاب چه نشی بیرته گرځولی (له دوی

نه په هيڅ شان).

**تفسير:** يعني څه مهال (وخت) چه له دې لورې مطمئن شو، نو فوراً د لوط عليه السلام د قوم په مسئله کښې له پرښتو سره ئې بحث شروع کړ چه د هغه خلاصه د عنکبوت په سورت کښې بيان فرمايلې ده چه پرښتو ابراهيم عليه السلام مطلع کړ چه مونږ د دغو کليو د اهلاک دپاره راغلي يو، ابراهيم عليه السلام وويل چه په هغه کښې خو پخپله لوط عليه السلام موجود دی، بيا د يوه نبي په موجوديت کښې هغوی څرنګه وژلی کيدی شي؟ پرښتو وويل چه مونږ پر ګردو (تولو) هغو کسانو خبر کړی شوی يو چه هلته اوسيږي، لوط عليه السلام سره له متعلقينو خپلو له هغه ځايه لرې کاوه شي، او وروسته له هغه عذاب نازليږي. په تفاسيرو کښې د بحث هغه تفاصيل چه بيان شوي دي الله تعالیٰ پرې ښه خبر دی، چه تر کومه ځايه پورې به صحيح وي. په هر حال دغه بحث ئې مبالغتاً د «يجادلنا» په لفظ سره تعبير وفرمايه چه له هغه څخه صافه دغه خبره مترشح او راوځي چه ابراهيم عليه السلام د خپل فطري شفقت، پوست زړه توب، حلم، لطف او کرم لامله (له وجې) د هغه قوم پر دغه حالت وويريده او د پاک الله په دربار کښې د هغوی د سپارښت کولو په فکر کښې ولويد، نو داسې جواب واورېد چه له دغه خياله تير شه! د دغو ظالمانو د ژوندانه جام ډک شوی دی، اوس د پاک الله صادر شوی حکم بيرته نشي ګرځيدی. او خامخا هغه عذاب واقع کيدونکی دی، او د هيڅا په سپارښت يا دعا او نورو اسبابو سره نشي لرې کيدی.

---

وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَا لُوطًا سِيٓءَ بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا وَقَالَ هَٰذَا يَوْمٌ عَصِيبٌ ۝٧٧

---

او کله چه راغلل رسولان زمونږ لوط ته (او د دوی ښائست ئې وليد) نو غمجن شو (لوط) په هغو او تنګه شوه له جهته د دوی سينه د ده (چه څه بې عزتي دوی ته ونه رسي) او وويل لوط دغه يوه ورځ ده ډيره سخته.

---

**تفسير:** دغه پرښتې د ډيرو حسينو او جميلو او د ډيرو ښکلو پيمخو ځنکيانو (هلکانو) په شکل سره متشکلې شوې وې. په اول کښې حضرت لوط عليه السلام دوی ونه پيژندلې چه پرښتې دي، بلکه د عادي ميلمنو په شان ئې وګڼلې. له بل لورې د هغه قوم بې حيائي او بده رشه (عادت) او خراب اخلاق ئې هم ورښکاره وه، نو سخت غمجن او تنګ زړه شو، او په فکر کښې ولويد، چه دغه بدکاران او شريران زما په دغو ميلمنو پسې هم رالويږي، او دوی به راڅخه بې عزته او بې پته کوي، د ميلمنو پريښودل هم ورته مشکل ؤ، او د دوی ژغورل (بچ کول) د دغو خبيثانو له لاسه هم ورته ګران ښکاريده ګواکې د ګرد (تول) قوم د جنګ او جګړې د پيرودلو (اخيستلو) وقت

ور د مخه شوی ؤ.

وَجَآءَهُ قَوْمُهُ يُهْرَعُونَ إِلَيْهِ وَمِن قَبْلُ كَانُوا يَعْمَلُونَ السَّيِّـَٔاتِ قَالَ يَٰقَوْمِ هَٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِى هُنَّ أَطْهَرُ لَكُمْ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَلَا تُخْزُونِ فِى ضَيْفِىٓ أَلَيْسَ مِنكُمْ رَجُلٌ رَّشِيدٌ ﴿٧٨﴾

او راغی ده ته قوم د ده حال دا چه راځغاست (بی اختیاره ځغلیدل) ده ته (دپاره د بدکاری)، او پخوا (له دی نه هم) وو هغوی چه عملونه ئی کول د ناکارو کارونو! (نو چه دوی راورسیدل او طلب د میلمنو ئی وکړ) نو وویل لوط ای قومه زما دا ښځی لونی زما دی (په نکاح ئی واخلئ) چه دوی ښی پاکی دی تاسی ته نو وویریږئ له الله او مه رسوا کوئ ما په حق د میلمنو زما کښی، آیا نشته له تاسی کوم سړی پوهنده (نیک کرداره چه تاسی ته پند درکړی).

**تفسیر:** یعنی دغه قوم ته د هغو نامعقولو حرکاتو او خلاف‌الفطرتو فواحشو کوم عادت چه لویدلی ؤ هغه به دوی ته د آرام کیناستلو فرصت کله ورکاوه نو کله چه دوی د داسی پیمخو ځنکیانو (هلکانو) له راتګه خبردار شول په نهایتی بی حیائی سره د لوط علیه السلام کره په مندو مندو سره ځغلیدل او په پوره قوت او شدت سره ئی تری مطالبه وکره چه دغه میلمانه ځنکیان (هلکان) ورپریږدی ولی چه مونږ پخوا له دی نه تاته ویلی وو چه ته به هیڅ یو نارینه خپل کره میلمه نشی ساتلی، هومره میلمانه چه دلته راځی هغه ګرد (تول) مونږ ته راپریږده! څو هر شی مو چه زړه غواړی همغه پری وکړو!.

حضرت لوط علیه السلام د میلمنو د پټ ساتلو دپاره هر راز (قسم) کوښښ وکړ او بالاخر دغه خبره ئی هغو شهوت خوښونکو ظالمانو ته وکره «ای ظالمانو! دغه زما جونی تاسی ته حاضری دی په نکاح سره ئی اخیستی شئ. او په حلالی طریقی سره تری متمتع کیدی شئ! چه دغه نهایت پاکیزه او ښکلی طریقه ده. له الله تعالیٰ څخه ویره پکار ده او تاسو لره له سره دغه کار وړ (لائق) او مناسب نه دی چه پاکه او مشروعه طریقه پریږدئ، او په داسی خلاف‌الفطرت او چټلو (خرابو) کارونو کښی ځانونه اخته کړئ! لږ تر لږه زما رعایت خو وکړئ! چه زه د دغو مقدسو میلمنو په مخ کښی شرمنده او رسوا نشم. ځکه چه د میلمه بی‌عزتی کټ مټ (هوبهو) د «کوربه» بی عزتی ده. آیا په تاسو کښی یو سړی هم داسی نشته چه په داسی سمو سمو خبرو وپوهیږی. او د نیکی او تقویٰ لاره غوره کړی.»

**تنبیه:** که د «هئولاء بناتی» څخه په عمومی ډول (طریقه) سره د دغه قوم جونی مرادی وی. چه هغوی ته تجوزاً جونی ویلی شوی دی ځکه چه نبی د خپل امت په حق کښی روحانی پلار وی. لکه چه په عمومی محاورو کښی هم د قوم صوری او معنوی مشران گردی (تولی) جونی خپلی لونی او هلکان خپل ځامن بللی شی او که د لوط علیه السلام خاصی صلبی لونی مرادی وی، نو ښائی چه له هغوی څخه ځینو ممتازو سړیو ته ځینی د نکاح دپاره وروړاندی کړی شوی وی، ځکه چه په هغه وقت کښی د کافرانو نکاح له مسلمانانو ښځو سره روا وه. د ځینو مفسرینو په نزد د لوط علیه السلام مقصود له دی قوله د نکاح او نورو هیڅ مقصود نه ؤ بلکه د دوی له تجاوز او تیری څخه عاجز او پکو (تنګ) شوی وی د دغو میلمنو د پت او آبرو ساتلو دپاره د خوشامندی او زاری په دود (طور) او په توګه (طریقه) ئی په دغسی الفاظو سره خپله انتهائی تواضع وربشکاروله څو که په دوی کښی د عزت او حیاء لږ څه شائبه او د سړی توب لږه ذره هم موجوده وی، نو د دغو الفاظو په آوریدلو سره لږ څه مړاوی او سست شی او له خپله زوره ولویږی او نسبتاً د پوستوالی او انسانیت په لوری وګرځی مګر دوی داسی حیاءدار او شرم ناک له سره نه وو هومره چه دوی ته ویل کیدل، د دوی په غوږونو کښی به ئی ځای نه نیو او له پخوا ځنی لا زیات سپین سترګی او بیباکه ګرځیدل، او د بیباکی او بی غیرتی په مظاهراتو کښی به ئی لا پسی زیاتوالی کاوه.

---

قَالُوا لَقَدْ عَلِمْتَ مَا لَنَا فِي بَنَاتِكَ مِنْ حَقٍّ وَإِنَّكَ لَتَعْلَمُ مَا نُرِيدُ ﴿٧٩﴾

---

وویل قوم د لوط هرومرو (خامخا) په تحقیق پوه ئی ته چه نشته مونږ لره په لونو ستا کښی هیڅ حاجت، او بیشکه ته خامخا پوهیږی په هغه کار چه مونږ ئی غواړو (چه لواطت دی)

---

**تفسیر:** نو دومره ولی غږیږی او حجت او تکرار د څه دپاره کوی؟ مونږ تر هغه پوری چه خپله دغه ناپاکه اراده پوره نه کړو، له دغه ځایه له سره نه بیرته کیږو.

---

قَالَ لَوْ أَنَّ لِي بِكُمْ قُوَّةً أَوْ آوِي إِلَىٰ رُكْنٍ شَدِيدٍ ﴿٨٠﴾

---

نو وویل لوط کاشکی وی ماته پر تاسی زور یا می پناه وړی شوی پناه ځای مستحکم ته

---

**تفسیر:** د لوط علیه السلام له ژبی څخه د انتهائی خوف او پریشانی په حالت کښی بی له جوړولو او سنجولو (فکر کولو) څخه دغه الفاظ ووتل «کاشکی په ما کښی بالذات دومره قوت

وی چه له تاسی گردو (تولو) سره جنگیدم. یا کوم طاقتور او مضبوط پناه ورکوونکی می لرلی».
یعنی زما قوم او ټبر او خپل دلته وی په حدیث کښې نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی
«**یرحم الله لوطاً لقد کان یأوی الی رکن شدید** الله تعالیٰ دی پر لوط علیه السلام رحم
وفرمائی بیشکه چه هغه مضبوطه او مستحکمه پناه ځای ځان ته حاصلوله» یعنی «الله قدوس» مگر
په دغه وقت کښې د سختی ویری او بی حده ضیق له وجه دغه لوری ته ئی خیال ونشو او بی
ساخته پر ظاهری اسبابو ئی نظر وغورځوه، د لوط علیه السلام څخه وروسته هومره انبیاء چه
مبعوث شوی دی هغوی گرد (تول) د قوم قبیلی او د ټبر خاوندان ؤ.

قَالُوا يَٰلُوطُ إِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَن يَصِلُوٓا۟ إِلَيْكَ فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ ٱلَّيْلِ وَلَا يَلْتَفِتْ مِنكُمْ أَحَدٌ إِلَّا ٱمْرَأَتَكَ إِنَّهُۥ مُصِيبُهَا مَآ أَصَابَهُمْ إِنَّ مَوْعِدَهُمُ ٱلصُّبْحُ أَلَيْسَ ٱلصُّبْحُ بِقَرِيبٍ ﴿٨١﴾

وویل ملائکو ای لوطه! بیشکه مونږ رسولان د رب ستایو له سره به ونه رسیږی
دوی تاته (په ضرر)، نو بوځه اهل خپل (له دی ښاره) په یوی ټوټی د شپی
کښې او نه دی گوری بیرته له تاسی هیڅ یو مگر (مه بیایه هغه) ښځه ستا
(چه کافره ده)، بیشکه شان دا دی چه رسیدونکی دی دی ته هغه عذاب چه
رسیږی دوی ته، بیشکه وعده د (نزول د عذاب پر) دوی صباح ده، آیا نه
دی صباح نژدی (بلکه نژدی دی نو ته تلوار مه کوه!)

**تفسیر:** کله چه د لوط علیه السلام غم، اندیښنه، اضطراب له حده تیر شو، نو دلته دغو میلمنو
پری غږ وکړ چه «یا نبی الله! تاسی په څه فکر کښې تللی یئ؟ مطلق مه پریشانیږئ! مونږ د الله
تعالیٰ رالیږلی شوی پرښتی یو. چه د دوی د اهلاک دپاره راغلی یو. دغه خبیثان زمونږ خو هیڅ
شی نشی خرابولی، بلکه تاسی ته هم له سره هیڅ زیان او ضرر نشی دررسولی.» په تفاسیرو
کښې راغلی دی کله چه دغو شریرانو ورونه او دروازی ورماتی کړی. یا له دیواله واوښتل، او دننه
د لوط علیه السلام انگړ ته ورغلل، نو دلته جبرئیل علیه السلام د پاک الله په حکم لوط علیه
السلام له دوی څخنی جدا کړ. او خپل مت ته ئی لږ څه د دوی په لوری حرکت ورکړ چه د هغه په
اثر گرد (تول) سره ړانده شول او په چغو سره ئی وویل «هله! ژر وتښتئ! چه د لوط علیه السلام
دغه میلمانه لوی جادوگران راښکاریږی». کله چه لوط علیه السلام له ډیری تنگدلی د عذاب د
وقت د راتلو پوښتنه وکړه، نو جبرئیل علیه السلام ورته وویل چه په تحقیق وقت د عذاب د دوی
صباح دی. یعنی پر دوی گهیځ (سحر وختی) عذاب راتلونکی دی. کله چه لږه شپه پاتی شی، نو

ته سره له متعلقينو دى له دى ځايه تشريف يوسه او خپلو ملګرو ته هدايت ورکړه! چه په دير تلوار سره دى درومى او هيڅ يو له دوى ځنى دى بيرته مخ نه ګرځوى. او نه دى ګورى هو! يوازې ستا ښځه دى له تا سره لاړه نشى يا به بيرته مخ ګرځوى او ګورى به او په دى دول (طريقه) به په دغه عذاب کښى اخته کيږى. چه پکښى هغه ګرد (تول) قوم اخته کيدونکى دى وائى چه دغى ښځى خپل قوم د دغو ميلمنو په راتګ مطلع کړى ؤ. بيا لوط عليه السلام وويل چه تر صباح پورى خو دير وقت دى. نو جبرئيل عليه السلام ورته وويل چه اى لوطه! آيا نه دى صباح نژدى؟ بلکه نژدى دى! يعنى خوشاله شئ. اوس د دغو ظالمانو په هلاک کيدلو هيڅ دومره ځنډ (ايسارتيا) نه دى پاتى هم دا چه صباح شو په ګهيځ (سحر وختى) کښى دوى ګرد (تول) سره وژلى کيږى.

---

فَلَمَّا جَآءَ أَمْرُنَا جَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ مَّنضُودٍ ﴿٨٢﴾ مُّسَوَّمَةً عِندَ رَبِّكَ ۖ وَمَا هِيَ مِنَ الظَّالِمِينَ بِبَعِيدٍ ﴿٨٣﴾

---

نو څه وقت چه راغى امر (حکم، عذاب) زمونږ نو وګرځاوه مونږ پورته طرف د دى (ښار) ښکته طرف ته (يعنى نسکور کړ مونږ پر دوى دا ښارونه) او واورول مونږ پر دغو ښارو باندى کانى له ختو جوړ شوو په اور پخو شوو لاندى باندى (پرله پسى). (داسى ګټى چه) نښى کړى شوى وى په نزد د رب ستا، او نه دى دا (ګټى يا ښارونه) له ظالمانو (کافرانو) څخه لرى.

---

**تفسير:** يعنى جبرئيل عليه السلام د دوى کلى پورته، او تر آسمانه پورى ئى نژدى ورسول او بيا ئى له هغه ځايه چپه کړل او په دغه دول (طريقه) هغه ګرد (تول) کلى سره لاندى باندى شول، بيا د دوى د نکايت او ذلت او رسوائى د تکميل دپاره له پاسه پر دوى کرتکانى او تودى دوزخى تيږى (ګټى) هم وورولى شوى، او هغه کسان هم پر هم دغو تيږو (ګټو) ووژل چه له هغه ښارونو څخه د باندى په نورو ځايونو کښى اوسيدل (العياذ بالله)

**تنبيه:** هغه سزا چه دغه قوم ته داسى ورکړى شوى ده چه پورته خوا ئى ښکته او ښکته خوا ئى پورته کړى شوى ده، هغه د دوى د هغه ظاهرى شرمناک حرکت سره هم څه مناسبت لرى.

د «منضود» معنى محقق شيخ الهند رحمة الله عليه «لاندى باندى» سره کړى ده ځينو ئى معنى پى درپى او مسلسلى او پرله پسى د تيږو (ګټو) وريدل آخيستى دى.

«مسومة» يعنى کومه خاصه علامه او نښه پر هغو باندى وه چه هغه ئى له نورو تيږو (ګټو) څخه ممتازه اوښکاروله، چه دغه د الله تعالىٰ د عذاب تيږه (ګټه) ده. ځينى وائى چه پر هرى تيږى (ګټى) د هغه سړى نوم ليکلى ؤ چه هغه پرى واژه کيده. او د هغه د اهلاک سبب ګرځيده والله

اعلم.

﴿ وَمَا هِيَ مِنَ الظّٰلِمِينَ بِبَعِيدٍ ﴾ يعني دغه د لوط د قوم واقعه د زمانى په اعتبار هم قريب دى ځکه چه وروسته له «عاد» او «ثمود» او د «نوح عليه السلام» له قوم څخه دغه واقعه پېښه شوى ده. او د مکان په اعتبار هم ځکه چه د دوى کلي د مدينى منورى او شام تر منځ ؤ، تيريدونکو قافلو او جوپو به د هغوى ورانى او نړيدلى کورونه او کندرى ليدلى يا د «وما هى من الظلمين ببعيد» د جملى مطلب دا دى چه داسى عذاب له هسى ظالمانو کافرانو څخنى اوس هم دومره لرى نه دى ښائى چه دوى تل د پاک الله له قهره وويريږى د دى قصى ځينى اجزاء پخوا له دى نه د الاعراف په سورت کښى تير شوى هلته دى بيا ولوستل شى!

وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا ۚ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥ ۖ وَلَا تَنقُصُوا۟ ٱلْمِكْيَالَ وَٱلْمِيزَانَ ۚ إِنِّىٓ أَرَىٰكُم بِخَيْرٍ وَإِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ مُّحِيطٍ ﴿٨٤﴾

او (ليږلى ؤ مونږ ښار يا اولاده د) مدين ته (قومى) ورور د دوى شعيب، وويل (شعيب) اى قومه زما عبادت کوئ (پواځى) د الله نشته تاسى لره هيڅ (برحق) معبود بى له دغه (الله)، او مه کموئ پيمانه او تله بيشکه چه زه وينمه تاسى په خير (خوشاله ماړه په شتو) او بيشکه زه ويريږم پر تاسى (په سبب د دى خيانت) له عذابه د ورځى چاپيريدونکى (په تاسى پورى په سختى او عذاب سره).

**تفسير:** دغه قصه په ۸ ؤ ۹ جزء د الاعراف د سورت ۱۱ رکوع کښى پخوا هم تيره شوى ده يعنى کله چه پاک الله تاسو ته فراغت او هوسائى (آرام) درعنايت کړى ده، نو ډير وويريږئ چه د عصيان او نافرمانى لامله (له وجى) هغه له تاسى څخه وانه خيسته شى او دغه خوښى او خوشالى مو سلبه او دنيوى او اخروى عذاب دربانډى مسلط نشى ځکه چه تاسو ګرد (تول) په خير او عافيت يئ، او په پوره نعمت او دولت سره په راحت يئ، او له سره اهل د حاجت نه يئ نو ولى داسى خيانت کوئ.

وَيَٰقَوْمِ أَوْفُوا۟ ٱلْمِكْيَالَ وَٱلْمِيزَانَ بِٱلْقِسْطِ ۖ وَلَا تَبْخَسُوا۟ ٱلنَّاسَ أَشْيَآءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا۟ فِى ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿٨٥﴾

او ای قومه زما پوره ورکوئ تاسی پیمانه او تله په انصاف (عدل سره) او مه کموئ تاسی خلقو ته څیزونه (مالونه) د دوی او مه لتوئ تاسی (خرابی) په ځمکه کښی په دغه حال کښی چه فساد کوونکی یئ.

**تفسیر:** یعنی تر اوسه پوری د ظلم او عدوان هغه معیار او قانون چه ؤ هغه اصلاح کړئ! ﴿وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ﴾ او مه لتوئ خرابی په ځمکه کښی په دغه حال کښی چه فساد کوونکی یئ) یعنی له شرکه او کفره یا له لږ پیمانی کولو او تللو څخه، یا په نورو دولو (طریقو) د حقوقو له اتلافه او ظلمه او تیری او تجاوز په ځمکه کښی فتنه او فساد مه آچوئ او خرابی مه کوئ! وائی چه دغو خلقو داړی اچولی او په امانت کښی به ئی خیانت کاوه.

بَقِيَّتُ اللَّهِ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ۚ

هغه باقی رزق پاتی کړی د الله (تاسو ته له حلاله) خیر ډیر غوره دی تاسی ته (له هغه چه تاسو ئی تولوئ په خیانت سره) که یئ تاسی مؤمنان (باور کوونکی په خبره زما)

**تفسیر:** یوه ایماندار انسان ته د پاک الله هغه ورکړی شوی مال چه وروسته د پوره او کامل اداء کولو د حقوقو (په حلال صورت) سره پاتی وی، اگر که لږ هم وی، له هغه کثیر څخه بهتر دی چه د حرامو په طریقه حاصلیږی یا په کښی د نورو خلقو حقوق تلف کیږی د حلالو په اموالو کښی چه په ښه دول (طریقه) سره پیمانه او وتلل شی سم د لاسه برکت پیدا کیږی او د پاک الله له درباره اجر وررسیږی.

وَمَا أَنَا عَلَيْكُم بِحَفِيظٍ ﴿٨٦﴾

او نه یم زه پر تاسو ډیر ساتونکی (له منهیاتو)

**تفسیر:** یعنی ما تاسو ته پند او نصیحت وکړ وروسته له هغه د دی خبری ذمه وار نه یم چه په زور او زیاتی ئی پر خلقو تعمیل یا هغوی د هغه پر تعمیل سره مجبور هم کړم.

قَالُوا يَا شُعَيْبُ أَصَلَاتُكَ تَأْمُرُكَ أَن نَّتْرُكَ مَا يَعْبُدُ آبَاؤُنَا أَوْ أَن نَّفْعَلَ

فِيٓ أَمۡوَٰلِنَا مَا نَشَٰٓؤُاْۖ إِنَّكَ لَأَنتَ ٱلۡحَلِيمُ ٱلرَّشِيدُ ۝٨٧

نو وویل قوم د ده ای شعیبه آیا دغه ډیر لمونځ کول ستا (دړښیی) امر کوی تاته په دی چه پریږدو مونږ هغه بتان چه عبادت به کاوه (د هغو) پلرونو زمونږ یا (په دی امر کوی چه پریږدو مونږ) دا چه وکړو مونږ په اموالو خپلو هغه تصرف چه غواړو ئی (د ډیر اخیستلو او لږ ورکولو) بیشکه ته خامخا هم ته ئی لوی باوقاره سم په لاره (نیک کرداره).

**تفسیر:** دغه خبری به ئی د استهزاء او تمسخر په ډول (طریقه) کولی، چه «بس کړه صاحبه! زیات له دی نه مه مشر کیږه! آیا په ګرد (تول) قوم کښی هم دا یواځی ته لوی عقلمن باوقاره نیک کردار ئی؟ او باقی مونږ او زمونږ مشران ګرد (تول) جاهلان او احمقان دی؟» حضرت شعیب علیه السلام ډیر زیات لمونځ کاوه، نو دوی ورته وویل چه:« شائی ستا دغه ډیر لمونځ کول تاته داسی حکم درکوی چه له مونږ څخنی زمونږ د پلرونو او نیکونو دین پردی کړی او زمونږ د ملکیت اختیار زمونږ په مملوکه ؤ مالونو کښی لری کړی. بس ته دی خپل لمونځ کوه! او زمونږ په دینی او دنیاوی معاملاتو وزن او کیل او تللو کښی ستا د مداخلی هیڅ ضرورت له سره نشته» حضرت شاه صاحب لیکی «د جاهلانو دستور دی چه دوی د نیکانو کار پخپله نشی کولی نو د نیکانو توصیفونه او تعریفونه کوی هم دغه د کفر خصلت دی» ځینو مفسرینو ﴿إِنَّكَ لَأَنتَ ٱلۡحَلِيمُ ٱلرَّشِيدُ﴾ ئی پر استهزاء نه دی محمول کړی، بلکه پر واقعیت ئی حمل کړی دی یعنی ته خو یو یوه، باوقاره نیک کرداره سړی ئی، نو بیا داسی بی موقعه او چتی (بیکاره) خبری ولی کوی؟ لکه چه صالح علیه السلام ته به هم د هغه قوم هم داسی ویل ﴿قَدۡ كُنتَ فِينَا مَرۡجُوّٗا قَبۡلَ هَٰذَآۖ أَتَنۡهَىٰنَآ أَن نَّعۡبُدَ مَا يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَا﴾ الآیة -

قَالَ يَٰقَوۡمِ أَرَءَيۡتُمۡ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّي وَرَزَقَنِي مِنۡهُ رِزۡقًا حَسَنٗاۚ وَمَآ أُرِيدُ أَنۡ أُخَالِفَكُمۡ إِلَىٰ مَآ أَنۡهَىٰكُمۡ عَنۡهُۚ إِنۡ أُرِيدُ إِلَّا ٱلۡإِصۡلَٰحَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُۚ وَمَا تَوۡفِيقِيٓ إِلَّا بِٱللَّهِۚ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَإِلَيۡهِ أُنِيبُ ۝٨٨

وویل شعیب ای قومه زما آیا وینئ تاسی (خبر راکړئ ماته) که یم زه په

برهان (واضح بیان) له جانبه د رب خپل او راکړی ئی وی ماته له درباره خپله رزق روزی ښائسته نیکه (د نبوت او اسلامیت نو روا دی ماته دا چه مخالفت وکړم له احکامو د الله؟ بلکه نه ښائی)، او نه لرم اراده د دی چه مخالفت وکړم له تاسی (او راشم) هغه کار ته چه منع کوم تاسی له هغه کاره، اراده نه لرم زه مګر د اصلاح (ستاسی) څو چه توان کیږی زما، او نه دی توفیق زما (په اصلاح ستاسی کښی) مګر په (هدایت نصرت د) الله، خاص پر هم دغه الله توکل کړی دی ما او د هم ده په طرف رجوع کوم.

**تفسیر:** یا خو ظاهری روزی مراده ده. یعنی بی د پیمانی او د تلی، وزن د تزئید او تنقیصه په حلالی طریقی سره ئی روزی عطا کړی ده، یا باطنی روزی مقصوده ده، یعنی علم او حکمت او نبوت ئی عطا کړی دی. خلاصه ئی دا ده که ماته حق تعالیٰ فهم او بصیرت راکړی وی، او داسی سمه صافه لاره ئی راښوولی وی چه تاسی ئی نشئ لیدلی، او په دولت او شته والی ئی موږ کړی یم چه له هغه څنی تاسی بی برخی یئ، نو آیا د هغه حق دا دی چه معاذ الله زه ستاسی پشان ړوند شم، او د الله تعالیٰ له احکامو څخه مخ واړوم، یا ستاسی له دغی استهزاء او تمسخر (توکے تکالے) څخه وویریږم، او پند ورکول او پوهول پریږدم زه به له سره داسی نه کوم.

﴿ وَمَآ أُرِيدُ أَنۡ أُخَالِفَكُمۡ إِلَىٰ مَآ أَنۡهَىٰكُمۡ عَنۡهُ ﴾ او اراده نه لرم د دی چه مخالفت وکړم له تاسی او راشم هغه کار ته چه منع کوم تاسی د هغه نه یعنی د دی دپاره تری تاسو نه منع کوم چه ګوندی زه پخپله ئی وکړمه یا) له هغو خرابو کارونو څخه چه زه تاسی منع کوم زه له سره نه غواړم چه ځان له تاسی څنی بیل کړم او پخپله د هغه مرتکب شم. مثلاً تاسی تارکالدنیا وګرځوم، او زه پخپله مال او دولت راټول کړم. نه هغه پند او نصیحت چه زه ئی تاسی ته کوم، زه له تاسو څخه لا ړومبی د هغو په تعمیل کښی مشغول او لګیا یم تاسی دغه الزام پر ما باندی نشئ اړولی چه زما پند پر ځان غوښتنه یا هوا او هوس محمول کړئ.

﴿ إِنۡ أُرِيدُ إِلَّا ٱلۡإِصۡلَٰحَ ﴾ الآیة - اراده نه لرم زه مګر د اصلاح ستاسی څو چه توان کیږی زما او نه دی توفیق زما په اصلاح ستاسی کښی مګر په هدایت او نصرت د الله، خاص پر هم دغه الله توکل کړی دی ما او په طرف د هم ده رجوع کوم زه) زما زیاتر کوښښ دا دی چه ستاسی دینی او دنیوی حالت ښه شی، او اصلاح ومومی او دغه موجوده خراب حالت مو لری شی. او د ایمان او عرفان په لوړه (اوچته) د ختلو کوښښ وکړئ پرته (علاوه) له دغه اصلاح له مقصده بل کوم مطلب نه لرم، چه زه می خپل دغه مرام تر خپل مقدور او استطاعت پوری په هیڅ یو حالت کښی له سره نشم پریښودی. پاتی شوه دغه خبره چه زما دغه مقصد تر پایه (آخره) هم ورسیږی او زه په دغه کوښښ کښی بریالی (بامراده) هم شم دغه ګرد (تول) د قدوس الله په قبضه او واک (اختیار) کښی دی. او د پاک الله په امداد او توفیق سره ګرد (تول) کارونه تر سر رسیدی شی. زما اعتماد او توکل پر همغه پاک الله دی او په هری معاملی کښی هغه ته رجوع کوم.

وَيٰقَوْمِ لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شِقَاقِيْٓ اَنْ يُّصِيْبَكُمْ مِّثْلُ مَآ اَصَابَ قَوْمَ نُوْحٍ اَوْ قَوْمَ هُوْدٍ اَوْ قَوْمَ صٰلِحٍ ؕ وَمَا قَوْمُ لُوْطٍ مِّنْكُمْ بِبَعِيْدٍ ﴿٨٩﴾

او ای قومه زما حاصل دی نه کړی تاسی ته دښمنی (ستاسی) ما لره دا خبره چه ورسیږی تاسی ته پشان د هغه (عذاب) چه رسیدلی ؤ قوم د نوح ته (چه غرق ؤ) یا قوم د هود ته (چه سخت باد ؤ) یا قوم د صالح ته (چه زلزله وه)، او نه دی (نسکور شوی) قوم د لوط له تاسی څخه (ای کفارو دومره) لری (په زمان مکان نو پری عبرت واخلئ)

**تفسیر:** یعنی زما د ضد، عناد او عداوت په جوش کښی داسی حرکات مه کوئ، چه تاسی د هغه په سبب د تیرو اقوامو پشان د ډیرو سختو عذابونو وړ (لائق) او مستحق شئ! د نوح، هود او صالح علیهم السلام پر امتونو د تکذیب او عداوت لامله (له وجی) هغه عذاب چه نازل شوی دی هر چاته ښکاره دی. د لوط علیه السلام د قوم قصه خو له دغو گردو (تولو) څخه وروسته په هم دغی نژدی زمانی کښی واقع شوی ده، او د هغی یاد به ستاسی په حافظه کښی موجود وی نو دغه نظائر له سره مه هیروئ. یعنی که تاسی د نوح او د هود او د صالح علیهم السلام د قوم له تعذیب څخه په سبب د لری والی د زمانی عبرت نشئ اخیستی نو نه دی قوم د لوط له تاسی لری نه په زمان سره نه په مکان کښی نو په هغه خو خامخا عبرت واخلئ!

وَاسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ ؕ اِنَّ رَبِّيْ رَحِيْمٌ وَّدُوْدٌ ﴿٩٠﴾

او مغفرت وغواړئ تاسی له رب خپل (په راوړلو د ایمان سره) بیا رجوع وکړئ تاسی په طرف د ده (په خصوص او خلوص د عبادت سره)، بیشکه رب زما ډیر مهربان لوی محبت والا دی.

**تفسیر:** هومره چه قدیمی او په هره اندازه چه سخت مجرم او لوی گناهگار هم وی کله چه دی د زړه په صدق او اخلاص سره د الله دربار ته رجوع وکړی او معافی بښنه تری وغواړی نو ئی پخپل فضل او کرم سره ببښی. بلکه له ده سره مینه او محبت هم کوی.

قَالُوْا يٰشُعَيْبُ مَا نَفْقَهُ كَثِيْرًا مِّمَّا تَقُوْلُ وَاِنَّا

لَنَرٰىكَ فِيْنَا ضَعِيْفًا ۚ وَلَوْلَا رَهْطُكَ لَرَجَمْنٰكَ ۖ وَمَآ اَنْتَ عَلَيْنَا بِعَزِيْزٍ ﴿۹۱﴾

وويل قوم (د ده په جواب کښې) ای شعيبه نه پوهيږو مونږ په ډيرو هغو خبرو چه ته ئې وائې (مونږ ته د توحيد په تعريف او منع د تطفيف) او بيشکه مونږ خامخا وينو تا په مونږ کښې کمزوره، او که نه وی دغه خپلوان ستا (چه په کفر کښې له مونږ سره شريکان دی) نو خامخا سنګسار کړی به وی مونږ ته او نه ئې ته پر مونږ هيڅ قدر عزتناک (او ګران چه ستا خپل عزت مانع شی د رجم).

**تفسير:** دوی خو پر ګردو (تولو) شيانو ډير ښه پوهيدل. ليکن د ضد، عناد او حق پټولو لامله (له وجی) به ئې داسی خبری کولی چه مونږ پر دغو خبرو له سره نه پوهيږو چه ته څه وائې او د مجنونانو په شان تل ګړيږی او په خپل سر وييږی العياذ بالله. او که په رښتيا سره دوی به همغی سمی صافی خبری باندی له خپلی بی‌توجهی يا د غباوت له وجی نه پوهيدل نو دغه کلام به په خپل ظاهر باندی محموليده.

﴿ وَاِنَّا لَنَرٰىكَ فِيْنَا ضَعِيْفًا ﴾ او بيشکه مونږ خامخا وينو تا په مونږ کښې کمزوره ضعيفه ناتوانه) يعنی يو کمزور او بی حقيقته سری ته نه ښائی چه ګرد (تول) عالم له خپل ځان سره دښمن کړی، بلکه ورته لازم دی چه پر خپل حال باندی رحم وکړی او خپل هوسا (آرام) ځان په ربړو (تکليفونو) اخته نه کړی. او په لوی لاس خپل ځان د مرګ په خوله کښې ونه غورځوی چه هيڅ يوه فائده او ګټه (منافع) ورته نه رسوی.

**تنبيه:** ځينی اسلاف وائی چه دلته «ضعيف» د «ضرير البصر ړوند» په معنی دی. ښائی چه په کوم خاص وقت کښې په عارضی ډول (طريقه) سره موقتاً د ده د سترګو په ليدلو کښې څه نقصان او فتور واقع شوی وی، لکه چه د يوسف عليه السلام په فراق کښې د حضرت يعقوب عليه السلام سترګی سپينی شوی وی. په ځينو روايتونو کښې نقل کوی چه حضرت شعيب عليه السلام به ډير ژړل تر دی چه د سترګو په ليدلو کښې ئې نقصان پيدا شو. پاک الله وفرمايل «ای شعيبه! ته ولی دومره ژاړی؟ د جنت شوقمن ئې؟ که له دوزخه ويريږی؟» عرض ئې وکړ چه «ستا د لقاء په خيال کښې ژاړم چه په کوم وقت به زه درسره مخامخ شم، نو ته به له ما سره څه معامله وکړی؟» ارشاد وشو چه «زما لقاء دی تاته درمبارکه شی، ای شعيبه! ځکه می خپل کليم موسىٰ عليه السلام ابن عمران ستا خدمت دپاره درولی دی» وائی چه پاک الله ده ته د ليدلو باصره بيرته وروبښله! والله اعلم بصحته!.

﴿ وَلَوْلَا رَهْطُكَ لَرَجَمْنٰكَ ﴾ او که نه وی دغه خپلوان ستا چه په کفر کښې له مونږه سره شريکان دی نو خامخا سنګساره کړی به وی مونږ ته او نه ئې ته پر مونږ هيڅ قدر عزتناک ګران چه ستا خپل عزت مانع شی د رجم) يعنی که ستا د کورنی او د ټبر خلقو لحاظ او خاطر نه وی چه له

مونږ سره اوسیږی، نو لا له پخوا څخه به مو ته سنګسار کړی وی.

قَالَ يٰقَوْمِ اَرَهْطِيْٓ اَعَزُّ عَلَيْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ ۭ وَاتَّخَذْتُمُوْهُ وَرَاۗءَكُمْ ظِهْرِيًّا ۭ اِنَّ رَبِّيْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ مُحِيْطٌ ۹۲

وویل (شعیب) ای قومه زما آیا دغه خپلوان زما ډیر عزیز (مخور) دی پر تاسی له الله، او ګرځولی مو دی دغه (الله) وروسته د تاسی شاته غورځولی شوی (چه هیڅ پروا ئی نه کوئ)، بیشکه رب زما پر هغو کارونو چه کوئ ئی تاسی ښه احاطه کوونکی دی (نو جزاء د ټولو به درکړی)

**تفسیر:** یعنی د افسوس او تعجب ځای دی چه زما د کورنی له سببه می د رعایت وړ (لائق) او مستحق بولئ مګر د دی لامله (له وجی) می هیڅ لحاظ او خاطر نه کوئ چه زه د پاک الله نبی، او تاسی ته درلیږلی شوی یم، او صاف او صریح دلائل او نښی د خپل تصدیق دپاره درښیم ګواکی د تاسی په سترګو کښی زما د کورنی عزت، قوت، قدرت، او نور له الله قدوس څخه زیات دی، او د پاک الله عظمت او جلال مو داسی هیر کړی دی چه په تصور کښی مو هم له سره نه راځی.

هیروئ تاسی فرمان د لوی اکبر
بی فائده می یادوئ کهول تبر

دغه څومره بی عقلی او ناپوهی ده
چه فرق نه کړئ د اصغر او د اکبر

هغه قوم چه پاک الله (معاذ الله) هیروی، او وروسته د شاؤ خپلو ته ئی اچوی او غورځوی ئی. ښائی چه دوی ئی په یاد ولری چه د دوی ګرد (ټول) افعال، اقوال، اعمال، او نور د الله تعالیٰ د علم او قدرت په احاطه کښی دی تاسی هر کار چه کوئ او په هر حالت کښی چه اوسیږئ یوه شیبه هم د هغه له قدرته او احاطی څخه خارج نه یئ.

وَيٰقَوْمِ اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ اِنِّىْ عَامِلٌ ؕ سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۙ مَنْ يَّاْتِيْهِ عَذَابٌ يُّخْزِيْهِ وَمَنْ هُوَ كَاذِبٌ ؕ وَارْتَقِبُوْۤا اِنِّىْ مَعَكُمْ رَقِيْبٌ ﴿۹۳﴾

او ای قومه زما عمل کوئ په ځای خپل (یعني په حالت خپل چه شرک او معصیت دی) چه بیشکه زه هم عمل کونکی یم په حال خپل (چه توحید او طاعت دی) ژر به وپیژنئ تاسی هغه څوک چه راځي ده ته عذاب چه رسوا کوی هغه او (وبه پیژنئ) هغه څوک چه دروغ ویونکی دی، او انتظار کوئ (د عاقبت خپل) بیشکه زه هم له تاسی سره انتظار کوونکی یم د عاقبت خپل

**تفسیر:** یعني ښه ده تاسي پر خپل ضد او عناد ټینګ اوسئ! زه د پاک الله په توفیق سره د هدایت پر لاری ثابت قدم یم عنقریب تاسي ته به ښکاره شي چه له موږ څخه کوم یوه ته د الله تعالیٰ عذاب رسیږي؟ او رسوا کوی ئی؟ او کوم یو دروغجن ثابت کیږي؟ اوس موږ او تاسی دواړه آسماني فیصلی ته ګورو او انتظار کوو.

وَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا شُعَيْبًا وَّالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَاَخَذَتِ الَّذِيْنَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَاَصْبَحُوْا فِىْ دِيَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ۙ﴿۹۴﴾ كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا فِيْهَا ؕ اَلَا بُعْدًا لِّمَدْيَنَ كَمَا بَعِدَتْ ثَمُوْدُ ﴿۹۵﴾

او کله چه راغی امر (حکم، عذاب) زموږ نو خلاص کړ موږ شعیب او هغه کسان چه ایمان ئی راوړی ؤ له ده سره (له دغه عذابه) په رحمت سره له نزده خپله او ونیول هغه کسان چه ظلم ئی کړی ؤ (په کفر سره) غږ سخت (د جبریل) نو ګهیځ (سحر وختی) وګرځیدل دوی (تول) په کورونو خپلو کښی مړه وچ کلک پراته پر زنګنونو خپلو. (داسی تباه شول) لکه چه نه وو اوسیدلی په دغو کورونو کښی (پخوا له دی نه)، خبردار شئ واورئ لری والی دی (له رحمته او هلاک دی قوم د) مدین ته لکه چه لری او هلاک شول ثمودیان (چه دواړه په صیحه سره هلاک شول)

**تفسیر:** دلته د حضرت شعیب علیه السلام د قوم په صیحه (سخته چغه) سره هلاکیدل مذکور دی.

او په «الاعراف» کښې د «رجفة» لفظ راغلی دی یعنی په زلزله سره وژلی شوی دی، او د «الشعرآء» په سورت کښې «عذاب یوم الظلة» راغلی دی چه مطلب ئې دا دی د عذاب وريځ لکه سایوان پر دوی محیطه شوی وه ابن کثیر رحمة الله علیه لیکی چه دغه دری واړه عذابونه د دی قوم په حق کښې سره جمع شوی ؤ بیا په هر صورت کښې د هغه ځای په سیاق سره مناسب عذاب ذکر شوی دی. په «الاعراف» کښې ؤ چه هغو خلقو شعیب علیه السلام ته وویل چه مونږ تاسی او ستاسی ملګری له دغی خپلی ځمکی ځخه وباسو نو هلته ئې دروښوده چه له هغی ځمکی ځخه چه تاسی مسلمانان تری وباسئ، د همغی ځمکی د زلزلی له اثره به ووژلی شئ. کله چه دلته د هغو د سختو بې‌ادبیو مقالاتو ذکر دی، نو ځکه ئې د هغه په مقابل کښې د آسمان «صیحی» یعنی سختی چغی ذکر وفرمایه، ګواکی د الله تعالیٰ د عذاب په یوی چغی کښې د هغو ګرد (تول) شورماشور او وبناوی ورکی شوی. د «الشعراء» په سورت کښې د دوی دغه قول نقل کړی دی ﴿ فَأَسْقِطْ عَلَيْنَا كِسَفًا مِّنَ السَّمَاءِ إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ ﴾ یعنی که ته رښتینی ئې، نو پر مونږ باندی د آسمان یوه ټوټه راوغورځوه! نو د هغه په مقابل کښې د «عذاب یوم الظلة» تذکره وفرمایله شوه.

---

## وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِآيَاتِنَا وَسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿٩٦﴾ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَئِهِ فَاتَّبَعُوا أَمْرَ فِرْعَوْنَ ۖ وَمَا أَمْرُ فِرْعَوْنَ بِرَشِيدٍ ﴿٩٧﴾

---

او خامخا په تحقیق لیږلی وو مونږ موسیٰ (په ښکاره نهو) معجزو خپلو سره او په برهان (قاطع حجت) واضح سره. فرعون او مشرانو د (قوم د) ده ته او متابعت وکړ دغو (مشرانو) د امر (حکم) د فرعون، حال دا چه نه ؤ حکم د فرعون برابروونکی پر سمی لاری.

---

**تفسیر:** له نښو ځخه غالباً معجزات او هغه (۹) نښی مرادی دی چه د هغو ذکر په ﴿ وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَىٰ تِسْعَ آيَاتٍ ﴾ کښې شوی دی. د هغو له منځه د عصاء معجزه ئې چه نهایته ظاهره او قاهره معجزه وه شاید «سلطان مبین» یعنی واضح سند فرمایلی وی، یا له «سلطان مبین» ځخه هغه روښانه دلائل مراد دی چه موسیٰ علیه السلام هغه د فرعون په مخ کښې د الله تعالیٰ د وجود او توحید او نورو په متعلق وړاندی کړی ؤ. چه د هغو ذکر په نورو مقاماتو کښې راځی، او ممکن دی چه له «سلطان مبین» ځخه د هغه لغوی معنی مراد وی یعنی ښکاره بری یا ظاهره غلبه ځکه چه د فرعونیانو په مقابل کښې حضرت موسیٰ علیه السلام ته ظاهره غلبه او فتح مبین څو څو کرته حاصله شوی ده. یعنی سره د ښکاره او واضحو نښو له لیدلو ځخه بیا هم فرعونیان د الله تعالیٰ د نبی علیه السلام خبره وانه وریده، او د همغه الله د دښمن فرعون پر حکم به ئې تګ

او عمل کاوه حال دا چه د فرعون هیڅ یوه خبره داسې جوته او صحیحه نه وه چه د هغې په قبلولو سره انسان نیکی او ښیګڼه (فائده) حاصله کړی شي.

يَقْدُمُ قَوْمَهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ فَأَوْرَدَهُمُ ٱلنَّارَ ۖ وَبِئْسَ ٱلْوِرْدُ ٱلْمَوْرُودُ ﴿٩٨﴾

مخکښی به شي (دغه فرعون) د قوم خپل په ورځ د قیامت کښې نو ننه به باسي هغوی په اور کښې، او بد ځای د ورتلو (د دوی هغه) دی چه وروستل شي دوی (هغه ته چه اور دی).

**تفسیر:** یعنې همغسې چه فرعون دلته په کفر او تکذیب کښې د دوی امام او قائد ؤ په قیامت کښې به هم د هغو امام او قائد وی. هغو خلقو چه په دنیا کښې د ړندو پشان د فرعون تقلید کاوه دوی به د ده تر شا تر اخرې منزل (جهنم) پورې ورسیږی، دا همغه کنده ده چه هلته به د یخو اوبو په ځای ډیر سوځوونکې ایرې کوونکې اور وررسیږی.

وَأُتْبِعُوا۟ فِى هَـٰذِهِۦ لَعْنَةً وَيَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ ۚ بِئْسَ ٱلرِّفْدُ ٱلْمَرْفُودُ ﴿٩٩﴾

او وروسې لګولی شوی دی په دغه دنیا کښې لعنت او په ورځ د قیامت (هم)، بد انعام دی (هغه چه دوی ته) ورکړی شوی (دی).

**تفسیر:** یعنې تر څو چه دنیاوی خلق به پر فرعون او فرعونیانو لعنت لیږی بیا به قیامت کښې د ملائکة الله او اهل‌الموقف له لوری به هم پر دوی لعنت وریږی. الغرض د لعنت سلسله به پر دوی پرله پسې جریان لری او هیڅ به تری نه بیلیږی. ګواکې استهزاء دغه یو انعام دی چه د هغه پر چارو ورته ورکړی شوی دی.

ذَٰلِكَ مِنْ أَنۢبَآءِ ٱلْقُرَىٰ نَقُصُّهُۥ عَلَيْكَ ۖ مِنْهَا قَآئِمٌ وَحَصِيدٌ ﴿١٠٠﴾

دا (تیری شوی خبری) له (جملې د) احوالو د قریو دی چه بیانوو مونږ هغه پر تا باندی چه ځینی له هغو قریو ولاړی دی (کندوالی د دوی او اهل ئې هلاک دی) او ځینې ئې ریبلی شوی دی (سره د اهل خپل لکه کښت (فصل) چه په لرونو سره ریبلی شوی وی).

**تفسیر:** یعنې د هغو قومونو قصې چه مونږ تاسې ته درواورولې چه په څه شانې هغوی د انبیاؤ

علیهم السلام تکذیب او له هغو سره ئی بی ادبی او سپین سترگی وکړه؟ او بیا څرنگه تباه شول؟ د هغوی ځینی کلی اوس هم ودان دی لکه مصر چه د فرعون دارالسلطنت ؤ، او ځینی وران شوی دی مگر د هغوی څه کندوالی لا پاتی دی لکه د لوط علیه السلام د قوم کلی او د ځینو نښی هم د دنیا له مخی بیخی لری او ورکی شوی دی.

وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ وَلٰكِنْ ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَمَآ اَغْنَتْ عَنْهُمْ اٰلِهَتُهُمُ الَّتِيْ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ لَّمَّا جَآءَ اَمْرُ رَبِّكَ ۭ وَمَا زَادُوْهُمْ غَيْرَ تَتْبِيْبٍ ﴿۱۰۱﴾

او ظلم نه ؤ کړی مونږ پر دوی (په هلاکولو سره) ولیکن ظلم کړی وو هغوی پر ځانونو خپلو (په سبب د کفر او عناد) نو هیڅ دفع ونه کړه له دوی څخه هغو باطلو خدایانو د دوی هغه چه بلل به دوی غیر له الله (او د هغوی عبادت به ئی کاوه) هیڅ شی (د عذاب) کله چه راغی امر (حکم، عذاب) د رب ستا، او زیات نه کړ دغو خدایانو دوی ته (هیڅ شی) غیر له هلاکته.

**تفسیر:** یعنی پاک الله دوی بی قصوره ونه نیول چه د ظلم وهم پری وشی، کله چه دوی د جرائمو په ارتکاب کښی له حده تیر شول، او په دغه دول (طریقه) ئی خپل ځانونه علی رؤس الاشهاد د سزا ور (لائق) او مستحق وگرځول، نو دلته پر دوی د پاک الله عذاب نازل شو. بیا وگورئ پر هغو باطلو معبودانو چه دوی ډیر داده او مطمئن وو او له هغو څخه ئی لوی توقعات او امیدونه درلودل (لرل) هغوی هم د داسی سختو مصیبتونو په وقت کښی د دوی هیڅ پکار وره نه غلل. باطل معبود ئی څه پکار ورغی؟ بالعکس د دوی د هلاک سبب وگرځید. کله چه دغو مشرکانو دغه باطل معبودان د نفعی او ضرر خاوندان وگڼل او امیدونه ئی تری وکړل او نذرونه ئی ور وړاندی کړل، سجدی، تعظیمونه او سلامونه ئی ورته کول نو دغه بده ورځ ئی وریه برخه شوه. د انبیاؤ علیهم السلام او نورو په تکذیب کوم عذاب چه دوی ته رسیدونکی دی د شرک او بت پرستی عذاب لا پر هغه عذاب زیات او مزید دی.

وَكَذٰلِكَ اَخْذُ رَبِّكَ اِذَآ اَخَذَ الْقُرٰى وَهِيَ ظَالِمَةٌ ۭ اِنَّ اَخْذَهٗٓ اَلِيْمٌ شَدِيْدٌ ﴿۱۰۲﴾

او پشان د هم دغو (نیولو) نیول د رب ستا دی کله چه ونیسی الله اهل د قریو حال دا چه دا (اهل د قریو کافر) ظالم وی، بیشکه نیول د الله ډیر دردناک سخت زورور دی.

**تفسیر:** یعنی ظالمانو ته تر ډیره حده او اندازی پوری مهلت ورکاوه کیږی کله چه په هیڅ ډول (طریقه) له خپلو هغو بدو چارو څخه لاس وانخلی نو تر مری ئی نیسی او خفه کوی ئی. که مجرم وغواړی چه لږ څه ربړ (زحمت) او تکلیف راورسیږی یا له دغه مصیبت او جنجال څخه خپل ځان وژغوری (وساتی) نو دغه خیال ئی محال او جنون دی.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّمَنْ خَافَ عَذَابَ الْآخِرَةِ ۚ ذَٰلِكَ يَوْمٌ مَّجْمُوعٌ لَّهُ النَّاسُ وَذَٰلِكَ يَوْمٌ مَّشْهُودٌ ﴿١٠٣﴾

بیشکه په دی (مذکوره ؤ قصو) کښی خامخا ډیر عبرت دی دپاره د هغه چا چه ویریږی له عذابه د آخرت څخه، دغه ورځ د قیامت داسی یوه ورځ ده چه جمع به کړی شی په دی کښی ټول خلق او دا ورځ ده چه حاضر به شی ورته ټول مخلوقات

**تفسیر:** یعنی هر کله چه په دنیا کښی چه دارالعمل دی پر شرک او کفر او د انبیاؤ پر تکذیب سختی سزاوی ورکولی کیږی، نو دغه د دی خبری د معلومولو نښه ده چه په آخرت کښی چه خالص (دارالجزاء دی) څومره سختی سزاوی به وررسیږی؟ او د ژغورنی (بچ کیدو) صورت به ئی څه وی؟ هغه عقلمن سړی ته چه د خپل انجام او خاتمی په فکر او اندیښنی کښی وی. او تری ویریږی په دغه خیز کښی لوی عبرت او نصیحت دی. یعنی د ګردی (تولی) دنیا فیصله به یوه وقت کښی په هغه ورځ کښی کیږی چه ټول اولین او آخرین سره ټول شی او هیڅ یو تن به غیر حاضر پاتی کیدی نشی ګواکی د الله تعالیٰ جل جلاله په حضور کښی د وړاندی کیدلو لویه او وروستنی موقع به هم دغه ورځ وی.

وَمَا نُؤَخِّرُهُ إِلَّا لِأَجَلٍ مَّعْدُودٍ ﴿١٠٤﴾

او نه به وروستی کوو مونږ دا (ورځ) مګر دپاره د پوره کیدلو د نیتی معلومی (په نزد د الله)

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ په علم کښې کوم میعاد چه مقرر دی هغه ضرور پوره کیدونکی دی. او بیا هغه لویه ورځ راتلونکی ده. له دغه تاخیر څخه داسی مه اتکل کوئ چه دغه خبری محض فرضی او وهمی خبری دی (العیاذ بالله).

يَوْمَ يَأْتِ لَا تَكَلَّمُ نَفْسٌ إِلَّا بِإِذْنِهِۦ ۚ فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَسَعِيدٌ ﴿١٠٥﴾

په هغه وقت کښې چه راشی (هیبت د) قیامت نه کوی خبری هیڅ نفس مګر په اذن حکم د الله سره، نو ځینی له دغو خلقو به بدبخته او (ځینی به) نیک‌بخته وی.

**تفسیر:** یعنی هیڅوک به هغه خبره چه مقبوله او نافعه هم وی، بی د الله تعالیٰ له اذنه او حکمه نشی ویلی. او د محشر په ځینو مواقفو کښې خو مطلقاً یو حرف هم بی له اذنه او اجازی له خولی نشی ایستلی.

فَأَمَّا الَّذِينَ شَقُوا فَفِي النَّارِ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَشَهِيقٌ ﴿١٠٦﴾ خَالِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ إِلَّا مَا شَاءَ رَبُّكَ ۚ إِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِمَا يُرِيدُ ﴿١٠٧﴾ وَأَمَّا الَّذِينَ سُعِدُوا فَفِي الْجَنَّةِ خَالِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ إِلَّا مَا شَاءَ رَبُّكَ ۖ عَطَاءً غَيْرَ مَجْذُوذٍ ﴿١٠٨﴾

نو هر څه هغه کسان چه بدبختان شوی دی نو په اور کښې به وی. وی به هغوی ته په هغه اور کښې جګ (وچت) سخت غږ او ټیټ نرم غږ (لکه د خرو). همیشه به وی دوی په دغه اور کښې څو چه وی آسمانونه او ځمکه مګر چه اراده وفرمائی رب ستا (چه بوځی له سعیره زمهریر ته)، بیشکه رب ستا کوونکی دی (په کمال د قدرت سره) د هر هغه کار چه اراده وفرمائی (له اقسامه د تعذیب). او هر څه هغه کسان چه نیک بختان شوی دی نو په جنت کښې به وی همیشه به وی په هم دغه جنت کښې تر څو چه وی آسمانونه او ځمکه مګر چه اراده وفرمائی رب ستا (چه ئی بوځی رضوان او

لقاءالرحمٰن ته)، (دغه ورکړه) عطاء بخشش دی بی انتهاء (بلا انقطاع).

**تفسیر:** د دغو آیتونو دوه معنی کیدی شی. یوه دا چه هومره مدت چه آسمان او ځمکه په دنیا کښې پاتی وی، تر همغه مدت پوری اشقیاء په دوزخ کښې او سعداء په جنت کښې اوسیږی. مګر هغه چه د زیادت اراده وکړی رب ستا او هغه هم ده ته معلوم دی. ځکه کله چه مونږ له طویلو شخه د طویلو زمانو تصور کوو، نو خپلو شاؤ خوا او ماحولونو په اعتبار اوږد مدت هم دغه په خیال کښې راځی.٠. نو ځکه ﴿ مَادَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ ﴾ او نور الفاظ د عربو په محاوراتو کښې د دوام د مفهوم د اداء کولو دپاره ویلی کیږی. باقی د دوام او ابدیت اصلی مدلول چه ورته لامحدوده زمانه ښائی وویلی شی نو هغه د پاک الله د هغه لامتناهی علم سره مختص دی چه هغه ئی په ﴿ مَاشَآءَ رَبُّكَ ﴾ سره اداء فرمایلی ده. د آیت دوهمه معنی دا کیدی شی چه د ﴿ مَادَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ ﴾ لفظ له دوامه کنایه واخیست شی یا له آسمانه او ځمکی شخه د آخرت آسمان او ځمکه مراد شی، لکه چه فرمایلی ئی دی ﴿ يَوْمَ تُبَدَّلُ الْاَرْضُ غَيْرَ الْاَرْضِ وَالسَّمٰوٰتُ ﴾ (١٣ جزء د ابراهیم ٤٨ آیت ٧ رکوع) مطلب ئی داسی شو چه اشقیاء په دوزخ کښې او سعداء په جنت کښې تر هغه وقت پوری اوسیږی چه د آخرت ځمکه او آسمان باقی وی. یعنی همیشه مګر که اراده ئی وکړی رب ستا نو موقوفوی ئی لیکن دا اراده ئی نه کیږی او محال وقوعی ده ځکه چه د جنتیانو او د دوزخیانو خلود هم د پاک الله په مشیت او اختیار کښې دی، مګر خپله دغه اراده ئی لا له پخوا شخه فرمایلی ده چه د کفارو او مشرکینو عذاب، او د اهل‌الجنت ثواب له سره موقوف کیدونکی نه دی. لکه چه فرمایلی ئی دی ﴿ وَمَاهُمْ بِخٰرِجِيْنَ مِنَ النَّارِ ﴾ د البقرة آیت ١٦٧ (٢٠) رکوع او ﴿ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّخْرُجُوْا مِنَ النَّارِ وَمَاهُمْ بِخٰرِجِيْنَ مِنْهَا ﴾ د المائده آیت ٣٧ ٦ رکوع او ﴿ لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَاهُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴾ د البقرة آیت ١٦٢ (١٩) رکوع او ﴿ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَادُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ ﴾ ٥ جزء د النساء ١١٦ آیت ١٨ رکوع، او پر هم دغه د ګرد (تول) اهل الاسلام اجماع ده زمونږ د زمانی ځینی تش په نامه سره مفسرین هغه شه چه د ده په خلاف ئی لیکلی دی، هغه خو یا ضعیف او موضوع روایات دی. یا غریب او مؤول روایات دی. یا ځینی هغه آیتونه او احادیث دی چه د هغو پر مطلب د لنډ کتلو او خراب پوهیدلو لامله (له وجی) غلط پوهیدلی شوی دی. که الله تعالیٰ توفیق راسره مل کړ، او د مستقل تفسیر د لیکلو وار راغی نو پر دی به مفصل کلام وکړو. د اختصار له سببه دلته د شه لیکلو موقع نشته. پاتی شوه د «**عصاة الموحدین**» مسئله یعنی هغه مسلمانان چه د خپلو ګناهونو لامله (له وجی) په دوزخ کښې غورځولی کیږی (العیاذ بالله) نو د هغوی په متعلق صحیحو احادیثو مونږ د پاک الله پر مشیت مطلع کړی یو چه یوه ورځ هرومرو (خامخا) دی له دوزخ شخه ایستلی کیږی او جنت ته رسول کیږی. ولی له جنته هیڅ یو جنتی د باندی نه ایستل کیږی. ښائی په هم دی لحاظ د جنتیانو په ذکر کښې ﴿ عَطَآءً غَيْرَ مَجْذُوْذٍ ﴾ او د اشقیاؤ په ذکر کښې ﴿ اِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ ﴾ ارشاد فرمایلی وی، شو

معلوم شي چه ځینی اشقیاء به له دوزخه ایستل کیږی. مګر هیڅ یو سعید به له جنته نه ایستل کیږی.

**تنبیه:** په «الا ما شاء ربک» سره ئی تنبیه فرمایلی ده چه د پاک الله په همیشه پاتی کیدلو او د مخلوق په همیشه پاتی کیدلو کښی فرق شته. د کوم مخلوق همیشه پاتی کیدل من کل‌الوجوه د پاک الله پر مشیت موقوف دی. الله تعالیٰ هر وقت چه وغواړی فناء کولی ئی شی. او هم دا ئی راوښودله چه جزا او سزا ورکول دواړه د الله تعالیٰ د اختیار او مشیت تابع دی او د «اریه سماج» او د نورو له عقیدی سره موافق الله تعالیٰ پر هغه نه دی مجبور.

فَلَا تَكُ فِي مِرْيَةٍ مِّمَّا يَعْبُدُ هٰٓؤُلَآءِ ۚ مَا يَعْبُدُونَ إِلَّا كَمَا يَعْبُدُ اٰبَآؤُهُم مِّن قَبْلُ ۚ وَإِنَّا لَمُوَفُّوهُمْ نَصِيبَهُمْ غَيْرَ مَنقُوصٍ ﴿١٠٩﴾

پس مه کیږه ته (یعنی نه دی شی امت ستا) په شک کښی له هغو بتانو چه عبادت ئی کوی دغه کسان، نه کوی عبادت دوی مګر لکه چه عبادت به کاوه پلرونو د دوی پخوا (له دی نه)، او بیشکه چه مونږ پوره ورکوونکی یو دوی ته د برخی د دوی (له عذابه) بی له نقصانه (کامله تامه).

**تفسیر:** یعنی د دومره مخلوقاتو د شرک او بت پرستی پر لاره لویدل، او تر اوسه پوری د دوی په سزا نه رسیدل، داسی یو شی نه دی چه پری انسان وغولیږی او په شبهه کښی ولویږی دغه خلق د خپلو پلرونو او نیکونو په بی اساسه تقلید کښی مشغول او لګیا دی هغه د دروغو معبودان د دوی په څه کار ورځی؟ یقینا دغو ټولو ته په آخرت کښی پوره سزا وررسیږی چه پکښی هیڅ زیادت او نقصان به نه وی. ګواکی د «غیر منقوص» لفظ د «عطآء غیر مجذوذ» په مقابل کښی ایښی شوی دی. بعض مفسرین وائی چه په دنیا کښی د رزق او نورو کومه برخه چه مقدره ده، هغه پوره ورسیږی. بیا د شرک پوره سزا هم مومی.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوسَى الْكِتٰبَ فَاخْتُلِفَ فِيهِ ۚ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ۚ وَإِنَّهُمْ لَفِي شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيبٍ ﴿١١٠﴾

او خامخا په تحقیق ورکړی ؤ مونږ موسیٰ ته کتاب (توریت) نو اختلاف وکړ شو په دغه (توریت) کښی، او که نه وی هغه کلمه (حکم) چه ړومبی شوی ؤ

له ربه ستا (د تاخیر د جزا تر قیامته پورې) نو خامخا فیصله به شوې وه په منځ د دوی کښې (په دنیا کښې)، او بیشکه دوی خامخا په شک کښې دی له دې (قرآنه) پراته دی په داسې شک کښې چه غورځوونکی د زړونو دی په اضطراب کښې)

**تفسیر:** موسیٰ علیه السلام ته ئې کتاب ورکړ، او راوئې لیږه، نو بنی‌اسرائیلو پخپلو منځونو کښې اختلاف سره وکړ. ځینو هغه ومانه او ځینو ترې سر وغړوه لکه چه نن ورځ د لوی قرآن په نسبت هم داسې اختلاف د انسانانو په منځ کښې شته. بیشکه چه پاک الله د دې خبرې قدرت درلود (لرلو) چه دغو اختلافاتو او تفریقونو ته موقع ور نه کړې. یا د هغه له پیدا کولو څخه وروسته د ګردو (تولو) مکذبینو فوری استیصال او تولې جګړې له یوې مخې لرې کړې. مګر د ده تکوینی حکمت د دې خبرې اقتضاء ونه کړه یوه خبره د ده له حضوره لا له پخوا څخه مقرره او تاکلې (مقرر کړې) شوې ده چه انسان ته ئې تر یوه خاص حد پورې د کسب او اختیار آزادي او خپلواکي ورکړې ده، او د امتحان په میدان کښې ئې خوشې کړې دی، او ورته ګورې چه دې په کومه لاره درومی؟ آیا د خالق او مخلوق حقوق په ښه ډول (طریقه) سره پیژنی، او د پاک الله د رحمت او کرامت وړ (لائق) او مستحق ګرځی؟ که کږه لاره غلطه چاره ځان ته غوره کوی او د صحیح فطرت لارښوونی ته څه اهمیت نه ورکوی او خپل ځان د الله تعالیٰ د غضب او سخط مظهر ګرځوی ﴿ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ﴾ د هم دغه مقصد په اقتضاء د انسان خلقت داسې ایښی شوی دی چه دی د نیکی او بدی. په اختیارولو کښې بالکل مجبور او مضطر نه وی. نو د دغه لازمی نتیجه دا ده چه په دنیا کښې د خیر او شر او د نیکیو او بدیو مقابله یو له بل سره جاری او تل ارتباط ولری چه وروسته د دوی له منځه مغضوب او مرحوم سره بیل کړل شی خو د ﴿ إِلَّا مَن رَّحِمَ رَبُّكَ ﴾ سره د ﴿ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ﴾ والا خبره هم پوره شی. غالباً دا هغه لفظ دی که ئې نه وی فرمایلی نو د ګردو (تولو) اختلافاتو خاتمه به بیخی یو ځلی سره کیده. عامو خلقو ته د دغو خبرو د حکمتونو د نه پوهیدلو لامله (له وجی) په شک کښې لویدلی دی. چه وروسته له دې نه به هم د دغو اختلافاتو فیصله سره کیږی که نه؟

وَإِنَّ كُلًّا لَّمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمْ رَبُّكَ أَعْمَالَهُمْ ۚ إِنَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿١١١﴾

او بیشکه هر فرقه (د مؤمنینو او د کافرینو) ځنی قسم دی چه خامخا پوره به ورکړی دوی ته رب ستا (جزاء) د عملونو د دوی، بیشکه چه الله پر هغو کارونو چه کوی (ئې) دوی ښه خبردار دی.

**تفسیر:** یعنی تراوسه پورې هغه وقت نه دی راغلی چه د هر یوه د عمل پوره جزاء او سزاء ورکړه

شي او د هغو د استيفاء مراتب اجراء شي. ليکن کله چه وقت ئې راشي نو يقيناً د يوې يوې ذرې حساب به هم وکړې شي نه ښائي چه د عذاب له تاخيره داسې وپوهيدې شي چه هغه ستاسې له اعمالو څخه خبردار نه دی.
ځينې مفسرين وائي چه «لما» په اصل کښې «لمن ما» ؤ. چه لام ئې قسميه او «من» ئې جاره او «ما» ئې موصوله ده يعنې «والله لمن» «الذين» بيا دا نون ميم شو. نو درې ميمه جمع شول. نو يومبې ترې حذف شو.

فَاسْتَقِمْ كَمَآ أُمِرْتَ وَمَن تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطْغَوْا۟ ۚ إِنَّهُۥ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿١١٢﴾

نو مستقيم او ثابت اوسه لکه چه حکم کړې شوی دی تاته او (هم مستقيم او ثابت دې اوسي) هغه څوک چه توبه ئې ايستلې ده لتا سره او مه تيريږئ له حده، بيشکه چه الله پر هغو کارونو چه کوئ ئې تاسې ښه ليدونکی (بينا) دی.

**تفسير:** يعنې ته د دغو مشرکينو په جګړو او دعواؤ او دنګلونو کښې خپل ځان مه غورځوه ښائي چه تاسې او هغه مسلمانان چه له کفره او شرکه او نورو څخه ئې توبه ايستلې ده او ستاسې رفاقت او ملګرتوب ئې غوره کړې دی او د پاک الله په لورې ئې په صدق سره رجوع کړې ده، د الله تعالیٰ پر احکامو په نهايت ميرانی (بهادرئ) او استقلال او استقامت سره تل تينګ او کلک ولاړ اوسئ! په عقائدو، اخلاقو، عباداتو، معاملاتو، دعوت، تبليغ او نورو ګردو (تولو) شيانو کښې له افراطه او تفريطه بيل اوسئ! او د توسط او استقامت پر لاره سم رهي (روان) شئ! په هيڅ يوې معاملې کښې د افراط او تفريط خوا مه نيسئ او له شرعي حدودو د باندې مه وځئ! او يقين ولرئ! چه الله جل وعلا هره شيبه (لحظه) ستاسې اعمالو ته ګورې.

وَلَا تَرْكَنُوٓا۟ إِلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ فَتَمَسَّكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِنْ أَوْلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ﴿١١٣﴾

او مه مائليږئ تاسې (په دوستۍ سره) په طرف د هغو کسانو چه ظلم ئې کړې دی نو وبه رسيږې تاسې ته اور (د دوزخ) حال دا چه نه به وي تاسې ته پرته (علاوه) له الله هيڅ دوستان (چه ومو ساتي له عذابه) بيا به ونه کړه شي درسره مرسته (مدد).

**تفسیر:** پخوا په «ولا تطغوا» کښې ئې له حده د باندې او بهر وتلو څخه منع کړې وه. اوس دا راښیي چه هغو ظالمو خلقو (له حدودو وتونکو کسانو) ته نه ښائي چه د تاسې لږ میلان، رجحان او نوروی د دوی له موالاتو، مصاحبتو، تعظیمو، تکریمو، مدحو، او ثناؤ، ظاهری تشبهو، د عمل اشتراک او له هرې خبرې څخه حسبالمقدور محترز او حتیالامکان مجتنب اوسئ! نه چه دغه د اور لمبه تاسې ونه نغاړي. بیا ما سواء د الله او د رسول الله تاسې ته بل هیڅوک مدد نشي رسولی او نه د الله تعالیٰ له لوري به تاسې ته مدد دررسیږي.

وَأَقِمِ الصَّلَوٰةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ الَّيْلِ ۚ إِنَّ الْحَسَنَٰتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّـَٔاتِ ۚ ذَٰلِكَ ذِكْرَىٰ لِلذَّٰكِرِينَ ﴿١١٤﴾

او قائم کړه (سم ودروه سره له تولو حقوقو په ترتیب) لمونځ په دواړو طرفونو د ورځې او په ساعاتو له شپې (چه نژدې وی ورځې ته)، بیشکه چه نیکی (پنځه وقته لمونځ) لرې کوی بدی (کوچنی (واړه) گناهونه)، دغه (فرمان او وعده) پند دی دپاره د پند قبلوونکو

**تفسیر:** ظالمانو ته سر مه ټیټوئ! بلکه وحده لاشریک له الله ته خپل سرونه ښکته کړئ! یعنی صباح، ماښام، او د شپې په تیاره کښې په خشوع او خضوع سره لمونځونه اداء کوئ! چه همغه د پاک الله د مدد د حاصلولو ډیره لویه ذریعه ده.

**تنبیه:** د ورځې د دوه طرفونو یعنی طلوع او غروب څخه پخوا، د فجر او عصر لمونځونه مراد دی یا یو طرف فجر او بل طرف مغرب کیښود شي چه هغه هم بالکل له غروب سره متصل وی. او د ځینو اسلافو په نزد په دغه کښې فجر، ظهر، او عصر درې واړه لمونځونه داخل دی. گواکې ورځ ئې په دوو برخو سره ویشلې ده چه ړومبی برخه ئې فجر او وروستنی برخه ئې چه له نصف النهار څخه شروع کیږي او په غروب ختمیږي د ظهر او عصر دواړه لمونځونه شمیرلي دی له «وزلفاًمن الیل» څخه فقط عشاء یا مغرب او عشاء دواړه مو مراد دی «ابن کثیر رحمة الله علیه» دغه احتمال لیکلی دی چه له «طرفی النهار» څخه فجر او عصر او له «وزلفاً من الیل» څخه به تهجد مراد وی. ځکه د اسلام په ابتدا کښې هم دغه درې واړه لمونځونه فرض شوی ؤ وروسته د تهجد فرضیت منسوخ شو. او د پاتې دوو سره د درې نورو وقتونو تزئید وکړ شو والله اعلم.

﴿إِنَّ الْحَسَنَٰتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّـَٔاتِ﴾ بیشکه چه نیکی پنځه وقته لمونځ لرې کوی بدی واړه گناهونه، دغه فرمان او وعده پند دی دپاره د پند قبلوونکو په یاد ساتونکی) یعنی د لمونځونو قائمول د الله تعالیٰ یادونه ده لکه چه په بل ځای کښې ئې فرمایلی دی ﴿وَأَقِمِ الصَّلَوٰةَ لِذِكْرِي﴾ یا دا

مطلب چه د ﴿ إِنَّ الْحَسَنَٰتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّـَٔاتِ ﴾ ضابطه د یاد کوونکو دپاره د یادونې ځیز دی، چه ښائي له سره ونه هیراوه شي ځکه له دی ځنی مؤمن ته د نیکیو په لوری خاص ترغیب کیږی. حضرت شاه صاحب لیکی «نیکی پر دری دوله (قسمه) بدی لری کوی. هر څوک چه نیکی کوی د هغه بدی معافیږی. او هر هغه چه نیکی ځان ته غوره کوی د بدی عادت تری لری کیږی. او په هر ملک کښی چه د نیکیو رواج وی هلته هدایت راځی او ګمراهی تری لری کیږی. لیکن په دغو دری واړو کښی ښائي چه وزن ئی غالب وی. هومره چه خیری وی هومره صابون».

وَاصْبِرْ فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ ﴿١١٥﴾

او صبر وکړه (ای محمده په طاعت او مصیبت او له معصیت) نو بیشکه چه الله نه ضائع کوی ثواب د نیکی کوونکو.

**تفسیر:** په قرآن کریم کښی له غور کولو ښخه ظاهریږی چه د الله تعالیٰ په امداد او اعانت حاصلولو کښی دوو شیانو ته خاص دخل دی: صلوٰة او صبر ﴿ وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَوٰةِ ﴾ د البقرة آیت ۱۵۳ ۱۹ رکوع. دلته ئی هم وروسته له صلوٰة نه د صبر حکم فرمایلی دی. مطلب ئی دا دی چه مؤمن دی د الله تعالیٰ په عبادت او اطاعت کښی مستقیم اوسی. او د هیڅ درد او رنځ پروا دی ونه کړی، نو هلته د الله تعالیٰ مرسته (مدد) او نصرت ورحاصلیږی د ده په لوی دربار کښی د هیڅ یوی نیکی اجر نه ضائع کیږی. بلکه زیات له اندازی ښخه هم وررسیږی.

فَلَوْلَا كَانَ مِنَ الْقُرُونِ مِن قَبْلِكُمْ أُولُوا بَقِيَّةٍ يَنْهَوْنَ عَنِ الْفَسَادِ فِي الْأَرْضِ إِلَّا قَلِيلًا مِّمَّنْ أَنجَيْنَا مِنْهُمْ ۗ وَاتَّبَعَ الَّذِينَ ظَلَمُوا مَا أُتْرِفُوا فِيهِ وَكَانُوا مُجْرِمِينَ ﴿١١٦﴾

نو ولی نه ؤ (یعنی نه ؤ) له اهله د هغو زمانو چه وو پخوا له تاسی نه خاوندان د فکر او عقل چه منع کول ئی (خلق) له (کولو د) فساد په ځمکه کښی (چه عذاب پری نه وو راغلی) مګر چه منع وکړه لږ له هغو خلقو نه چه خلاص کړل مونږ (دوی) له عذابه د هغو پخوانیو ښخه (ځکه چه نهی عن المنکر به ئی کول) او متابعت وکړ هغو کسانو چه ظلم ئی کړی ؤ (په فساد یا ترک د نهی سره) د هغی لاری چه آسوده کړی شوی وو دوی په هغی

کښې او وو دوی ګنهکاران کافران

**تفسير:** د پخوانيو امتونو حال ئې راواوروه او مونږ محمدی امت ته ئې ترغيب او تشويق راکړ چه په مونږ محمديانو کښې «امر بالمعروف» او «نهی عن المنکر» کوونکی ښائی چه ډير وی پخوانی اقوام ځکه تباه او فنا شول چه په عمومی دول (طريقه) سره خلق د عيش او عشرت په نشو کښې مست او بی خبر شول، او د جرائمو په ارتکاب کښې معتاد (روږدی) شول او هغو لويو بااثرو سريو چه په دوی کښې لږ څه د خير اثر باقی ؤ، د دغو منکرانو له ممانعته سترګی پټی کړی او هيڅ به ئې ورته نه ويل، او په دی دول (طريقه) له کفر او طغيانه او ظلمه او عصيانه د دنيا اخلاقی حالت داسی خراب شوی و چه د هغه اصلاح کوونکی هيڅوک نه ؤ څو تنو شميرليو شويو سريو اګر که د «امر بالمعروف» دپاره خپل غږ پورته کړ. مګر په نغاره خانه کښی څوک د طوطی غږ اوريدی شی. نتيجه ئې داسی شوه چه منع کوونکی له عذابه محفوظ پاتی شول، او نور ګرد (تول) قوم سره تباه او فنا شول، حضرت شاه صاحب ليکی «که د نيکانو غلبه وی نو قوم به نه هلاکيده، څرنګه چه لږ وو نو دوی پخپله نجات وموند» په صحيح حديث کښی دی «کله چه د ظالم لاس له ظلمه وانه خيست شی او منع ئې ونه کړی، او خلق «امر بالمعروف» او «نهی عن المنکر» ترک کړی او پريږدی نو قريب دی چه الله تعالیٰ داسی يو عمومی عذاب نازل کړی چه هيڅوک تری نه خلاصيږی العياذ بالله حاصل دا چه واورئ خبردار شئ ای مرحومه محمدی امته چه سبب د اهلاک د تيرو امتونو چه مذکور دی په دی سورت کښی (۱) کفر (۲) ظلم (۳) اشتغال په مقتضياتو د نفس (٤) ترک د نهی له منکراتو دی، نو ښائی چه تاسی ځان وساتئ له دغو څلورو څيزو اخته او مبتلا نشئ په استيصال او بيخ کنی سره.

مملکت سره له کفره پاتی کيږی     د تيری او ظلم له لاسه ورانيږی

مسلمان ته تل په کار دی عدل نياو     تل هواد له عدله نياوه ودانيږی.

وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ الْقُرٰى بِظُلْمٍ وَّاَهْلُهَا مُصْلِحُوْنَ ﴿۱۱۷﴾

او له سره نه دی رب ستا، (اراده کوونکی د دی) چه هلاک کړی (اهل د) قريو په ظلم کفر سره حال دا چه وی اهل د دغو قريو (نيکان مؤمنان) مصلحان.

**تفسير:** يعنی د هغو ښارونو او کليو خلق چه خپل حالت ښه کړی او د اصلاح په لوری متوجه شی او نيکی ته رواج ورکړی او د ظلمه او فساده ځانونه وژغوری (وساتی)، نو د قدوس الله شان

دا نه دی چه خامخا دوی بالجبر ونیسی او هلاک ئی کړی. عذاب هلته نازلیږی چه خلق په کفر او عصیان یا ظلم او طغیان کښی له حده تیر شی.

وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ النَّاسَ أُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلَا يَزَالُوْنَ مُخْتَلِفِيْنَ ﴿۱۱۸﴾ إِلَّا مَنْ رَّحِمَ رَبُّكَ ۚ وَلِذٰلِكَ خَلَقَهُمْ ۗ وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَأَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِيْنَ ﴿۱۱۹﴾

او که اراده فرمایلي وی رب ستا نو هرومرو (خامخا) به ئی گرځولی ؤ دا خلق ټول سره امت یو (متفق په ایمان او طاعت طوعاً) او همیشه به وی دوی اختلاف کوونکی (په دین کښی). مگر هغه څوک چه رحم پری وفرمائی رب ستا (او له اختلافه ئی وساتی)، او دپاره د دی (اختلاف او رحمت) پیدا کړی دی الله دوی، او تمامه پوره شوه کلمه د رب ستا چه خامخا ډک به کړم هرومرو (خامخا) دوزخ له پیریانو او انسانانو سره ګډ.

**تفسیر:** یعنی لکه چه څو ځلی پخوا له دی نه لیکلی شوی دی د الله تعالیٰ تکوینی حکمت د دی خبری مقتضی نه دی چه ګرده (توله) دنیا یو شانی پر یوی لاری برابره کړی، نو ځکه د حق په قبلولو او نه قبلولو کښی همیشه اختلاف دی. او اختلاف به وی. مگر فی‌الحقیقت اختلاف او افتراق غورځوونکی هغه کسان دی چه هغوی د صاف او صریح فطرت په خلاف حق ته د دروغو نسبت کوی. که د فطرت سلیمه سره ګرد (تول) سم تلل نو هیڅ اختلاف به په منځ کښی نه پیدا کیده. نو ځکه ئی په ﴿ إِلَّا مَنْ رَّحِمَ رَبُّكَ ﴾ سره تنبیه وفرمایله چه پر هغه کسانو چه الله تعالیٰ د دوی د حق منلو په برکت رحم کړی دی. هغوی له اختلاف کوونکو څخه مستثنیٰ دی ﴿ وَلِذٰلِكَ خَلَقَهُمْ ﴾ الآیة - او دپاره د دی اختلاف او رحمت پیدا کړی دی الله دوی یعنی د دنیا له پیدا کیدلو څخه هم دغه غرض دی چه د الله تعالیٰ د هر قسم د «جلالیه ؤ» او «جمالیه ؤ» صفاتو ظهور وشی نو ځکه د مظاهرو اختلاف ضروری شو. څو یو جماعت خپل لوی څیښتن (مالک) ته خپله وفاداری او اطاعت ورڅرګند کړی. او د ده د رحمت او کرم او رضوان او غفران مظهر وګرځی چه د «الا من رحم ربک» مصداق دی. او بل جماعت د خپل بغاوت او غداری په سبب د الله تعالیٰ د عدل او انتقام د صفت مورد جوړ شی، او د حبس دوام سزا وګالی (برداشت کړی) او پر هغو باندی د الله جل جلاله هغه خبره پوره شی چه «لاملئن جهنم من الجنة والناس اجمعین» دی. په هر حال د دغی دنیا د خلقت تشریعی مقصد عبادت دی «وما خلقت الجن والانس الا لیعبدون» (۲۷ جزء د الذاریات ۵۶ آیت ۳ رکوع) او تکوینی غرض ئی دا دی چه د

تشريعي مقصد پخپل کسب او اختيار سره پوره کوونکی، او پرېښودونکی دواړه جماعتونه داسی موجود وی چه د الله تعالیٰ د جماليه ؤ او جلاليه ؤ يا په نورو الفاظو د لطف او د قهر مظهر وګرځيدی شي.

د قدرت په ګارخانه کښې ګافران هم پکارېږی
څوک به سوځي په دوزخ کښې که لهب او بوجهل نه ؤ
د اغزو ګلانو دواړو زرغونتيا مو ده پکار
چه کارغان پر اغزو کينی، بلبل ګل ته کړی چغهار

بيا د لطف او کرم مظاهر هم د خپل مدارجو له استعداده او د عمل په اعتبار مختلف دی.

د ګلانو دول دول دير ښائسته کړی باغ اطراف
ننداری د دنيا کيږی، په جګړو په اختلاف

وَكُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنبَاءِ الرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِ فُؤَادَكَ ۚ وَجَاءَكَ فِي هَٰذِهِ الْحَقُّ وَمَوْعِظَةٌ وَذِكْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٢٠﴾

او دا ټول (محتاج اليه) اخبار لولو مونږ پر تا (ای رسول الله) له احوالو د تيرو رسولانو هغه چه کلکوو قوی مطمئن کوو مونږ په هغو سره زړه ستا (په تزئيد د يقين سره) او راغلی دی تاته په دغو اخبارونو کښې حق (رښتيا) او موعظه (پند) او يادونه دپاره د مؤمنانو.

**تفسير:** پاس د ډيرو انبياؤ او رسولانو قصی مذکوری شوی. اوس د سورت په خاتمه کښې د دغو قصو د ذکر په څينو حکمتونو تنبيه فرمائی يعنی د پخوانيو اقوامو او رسولانو د واقعاتو له آوريدلو څخه د رسول عليه السلام زړه لا زيات ساکن او مطمئن کيږی. او محمدی امت ته داسی تحقيقی خبری معلوميږی چه پکښې د نصيحت او تذکير لوی وسائل شته. انسان کله چه آوری چه زما نور نوعی ابناء په پخوانيو زمانو کښې په دغه او هغه جرم سره هلاک شوی دی، نو د هغوی څخه د ځان ساتلو په فکر کښې لوېږی او کله چه ګوری چه د هغی لاری له غوره کولو څخه هغو پرومبنيو اقوامو نجات موندلی دی نو طبعادی هم هغه لوری ته ځغلی. فی‌الحقيقت په لوی قرآن کښې د قصصو برخه دومره مؤثره او مذکره واقع شوی ده چه د هغو له اوريدلو څخه هر هغه انسان چه لږ څه د آدميت څه اجزا پکښې وی او د پاک الله لږ څه خوف او درد په زړه کښې ولری. نو هرومرو (خامخا) متأثر کيږی. باقی د قصصو يا د نورو مضامينو د تکرار په نسبت چه په پاک قرآن کښې ليدل کيږی مولٰينا شبير احمد عثمانی د «القاسم» د رسالی په ابتدائی دوره کښې يو مستقل مضمون ليکلی دی شائقين دی هغه ولولی.

وَقُلْ لِّلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ ؕ اِنَّا عٰمِلُوْنَ ﴿۱۲۱﴾ وَانْتَظِرُوْا ۚ اِنَّا مُنْتَظِرُوْنَ ﴿۱۲۲﴾

او ووایه (ای محمده!) هغو کسانو ته چه ایمان نه راوړی چه عمل وکړئ پر ځای خپل (په حال د شرک خپل)، بیشکه مونږ هم عمل کوونکی یو (په حال خپل چه اسلام دی). او انتظار کوئ (عاقبت د کار ته)، بیشکه مونږ هم انتظار کوونکی یو (عاقبت د کار ته).

**تفسیر:** په هم دغه مضمون یو بل آیت هم په هم دی سورت کښې تیر شوی دی مطلب ئی دا دی که تاسی زما خبره نه منئ، نو ښه خو به دا وی چه تاسی پخپل هم دغه ضد او عناد باندی تینګ ودریږئ زه هم پر خپل ځای تینګ او مستقیم ولاړ یم. او هم تاسی ماته د دهر د حوادثو په انتظار کښې یئ نو زه هم د تاسی د بدی خاتمی منتظر یم په څو ورځو کښې به درښکاره شی چه دغه د ظلم سپینه اوښه د کوم یوه د کور په مخکښې چو کیږی؟ ﴿ وَيَتَرَبَّصُ بِكُمُ الدَّوَآئِرَ ؕ عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ السَّوْءِ ﴾

وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاِلَيْهِ يُرْجَعُ الْاَمْرُ كُلُّهٗ فَاعْبُدْهُ وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ ؕ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲۳﴾

او خاص الله لره دی (علم په) پټو د اسمانونو او (په پټو د) ځمکی (هم) او خاص هم ده ته بیرته ګرځولی شی امر (کار د بندګانو) تول نو عبادت کوه د الله (چه مرجع د تولو دی) او توکل وکړه پر الله، او نه دی رب ستا بی‌خبره د هغو کارونو څخه چه کوئ ئی تاسی.

**تفسیر:** یعنی تاسی د دوی له کفر او شرارت څخه مه غمجن کیږئ! او په خپل تبلیغ او دعوت کښې لګیا اوسئ! او د دوی فیصله هغه پاک الله ته ور وسپارئ! چه تری د ځمکی او آسمان هیڅ یوه پټه او ښکاره او وړوکی او لویه خبره نه ده پټه، او د ګردو (تولو) معاملاتو بیرته ورتګ او رجوع هم ده ته کیږی نو هلته به دوی ګرد (تول) سره وپوهیږی چه څرنګه په خبط او خطاء کښې لویدلی او سخت تیروتلی دی تاسی خو د زړه له کومی په اخلاص او عقیدت سره د پاک الله په اطاعت او عبادت کښې مشغول اوسئ! او یوائې د هم ده په اعانت، اعتماد او

توکل وکړئ! ځکه چه الله جل جلاله ستا له دغو مخلصانه ؤ اعمالو څخه بی خبر نه دی او سم له هغه سره به مناسبه معامله درسره وکړی. په حدیث کښی راغلی دی چه لویو اصحابو رضوان الله تعالیٰ علیهم اجمعین سؤال وکړ «یا رسول الله! پر تاسی د زوړتوب آثار ډیر ژر راښکاره شول؟» رسول الله مبارک وفرمایل «**شیبتنی هود واخواتها** د هود سورت او د ده نورو خویندو په زوړتوب کښی اچولی یم» هغه آیت چه زمونږ پاک رسول ئی ډیر زهیر او سپین ږیرتیا ته نژدی کړی دی دا دی ﴿ فَاسْتَقِمْ كَمَآ أُمِرْتَ وَمَن تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطْغَوْا۟ إِنَّهُۥ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴾

**رزقنا الله سبحانه وتعالیٰ الاستقامة علیٰ دینه وسنة نبیه صلی الله تعالیٰ علیه وعلیٰ آله الکرام واصحابه العظام**

**تمت سورة «هود».**

---

سورة یوسف مکیة الا الآیات ۱، ۲، ۳، ۷ فمدنیة وهی (۱۱۱) آیة
و (۱۲) رکوعا عدد تلاوتها (۱۲) وعدد نزولها (۵۳) نزلت بعد سورة هود

د «یوسف» سورت مکی دی پرته (علاوه) له ۱ ؤ ۲ ؤ ۳ ؤ ۷ آیتونه چه مدنی دی (۱۱۱) آیتونه (۱۲) رکوع لری. په تلاوت کښی (۱۲) او په نزول کښی (۳۵) سورت دی وروسته د یونس له سورت څخه نازل شوی دی.

---

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

شروع په نامه د الله چه خورا (ډیر) مهربان ډیر رحم والا دی.

---

الٓر ۚ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ ٱلْمُبِينِ ﴿١﴾ إِنَّآ أَنزَلْنَٰهُ قُرْءَٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٢﴾

---

دا (مخکښنی آیتونه چه لوستی کیږی) آیتونه دی د کتاب واضح (چه د هغه من عندالله توب بالکل واضح دی او پر هغو احکامو او شرائعو یا مواعظو چه هغه مشتمل دی نهایت روښان او صاف دی). بیشکه چه مونږ نازل کړی دی دا کتاب په دی حال کښی چه قرآن عربی دی دپاره د دی چه تاسی پوه شئ (پری).

---

**تفسیر:** یعنی عربی ژبه چه له ګردو (تولو) ژبو څخه زیاته فصیحه او وسیعه او منضبطه او ډکه د شوکته او باشانه ژبه ده، د قرآن د نزول دپاره منتخبه شوی ده. کله چه رسول الله مبارک ذاتاً عرب دی نو ښکاره ده چه په دنیا کښی به ړومبی مخاطب عرب وی. بیا د عربو په ذریعه د دنیا په ټولورو خواؤ کښی دغه رڼا خپره (خوره) شوه د هم دی په لوری په «لعلکم تعقلون»

کښې ئې اشاره فرمايلې ده چه ستاسې په ژبه د قرآن د نزول يوه وجه دا ده تاسې چه د رسول الله مبارک قوم يئ اول د ده د علومو او معارفو خوند وڅکئ! او بيا ئې نورو ته وروڅکوئ! لکه چه هم داسې هم وشو. ابن کثير رحمة الله عليه ليکي «**انزل اشرف الکتب باشرف اللغات علىٰ اشرف الرسل بسفارة اشرف الملئکة وکان ذلک فی اشرف بقاع الارض وابتداء انزاله في اشرف شهور السنة وهو رمضان فکمل من کل الوجوه** نازل کړې شوې دې غوره د کتابونو (چه قرآن دی) په غوره د لغتونو (چه عربي ژبه ده) پر غوره د رسولانو (چه حضرت محمد صلى الله عليه وسلم دی) په سفارت د غوره د ملائکو (چه حضرت جبرئيل دی) او ؤ دا انزال په غوره حصو د ځمکې کښې او اول د انزال ئې په غوره د مياشتو د کال کښې ؤ چه مياشته د رمضان ده نو کامل شو قرآن له هرې لورې څخه»

---

**نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ أَحْسَنَ الْقَصَصِ بِمَآ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ هَٰذَا الْقُرْءَانَ ۖ وَإِن كُنتَ مِن قَبْلِهِۦ لَمِنَ الْغَٰفِلِينَ ③**

---

مونږ بيانوو (لولوو) پر تا باندې ډيره ښه قصه له تولو قصو (ځکه چه خاوند ئې ښه دی) په سبب د وحې زمونږ تاته دغه قرآن او بيشکه شان دا دی چه وې ته پخوا (له نزوله) د دې قرآن خامخا له ناخبرانو (په دې قصې)

---

**تفسير:** يعنې د همغې وحې په ذريعه چه د قرآن کريم په صورت پر تا نازليږي مونږ يو نهايت ښه بيان پر حسين طرز سره تاته آوروو چه له هغه ځنې تر اوسه پورې ته هم لکه د خپل قوم بې خبره وې اگر که دغه واقعه د تاريخ په کتابونو کښې او په (بائبل ـ انجيل) کښې پخوا له دې نه مذکوره وه. مگر محض د يوې افسانې په صورت وه. قرآن کريم د هغې ضروري او مفيدې اجزاء په داسې يو عجيب او غريب او بليغ او مؤثر ترتيب او اصول سره بيان فرمايلې دي چه په هغه سره نه يوازې د پخوانيو تذکره ليکونکو پر قصور ئې اطلاع فرمايلې دی بلکه موقع په موقع د اعلىٰ نتائجو په لورې ئې هم لارښوونه کړې ده او د قصې په ضمن کښې ئې د علومو او هداياتو ابواب پرانستلي دي. دغه خبره چه د الله قدوس تقدير هيڅ يو شی نشي گرځولی او کله چه الله تعالىٰ پر چا باندې د فضل او کرم اراده وکړي، نو که گرد (تول) جهان هم سره لاس يو کړي نو پخپلو گردو (تولو) امکاني تدابيرو هم هغه نشي محروموليی. صبر او استقامت د دنيوي او اخروي کاميابي او برې کلي او مفتاح ده. د حسد او عداوت خاتمه غير له خذلان او نقصان څخه بل شی نه دي. انساني عقل داسې لوی شريف جوهر دی چه د هغه په وسيله انسان پر ډيرو مشکلاتو غالبيږي. او خپل ژوندون پرې ښائسته او ښه کوي. اخلاقي شرافت او عفت او طهارت بالاخر انسان د دښمنانو او حاسدانو په نظر کښې هم معزز او موقر گرځوي. پر دغه او د دغه

قسم نورو ديرو حقائقو باندی د دی احسن‌القصص په ضمن کښی تنبيه فرمايلی ده مفسرينو د دی سورت په شان نزول کښی څو روايتونه نقل کړی دی چه د ګردو (تولو) له يو ځای کولو څخه دا معلوميږی چه يهودانو د مکی معظمی د مشرکانو په ذريعه زمونږ له رسول صلی الله عليه وسلم څخه امتحاناً داسی پوښتنه وکړه. چه حضرت ابراهيم عليه السلام او د ده ځامن خو په شام کښی اوسيدل. نو بيا بني‌اسرائيل مصر ته څرنګه ورسيدل؟ چه په هغه کښی د موسیٰ عليه السلام او د فرعون مقابلی ته وار ورسيد. امکان لری چه مسلمانان هم د داسی يوی ښی مفصلی تاريخی واقعی آوريدلو ته مشتاق وی، چه له بصائرو او عبرتونو ځنی ډک وی. له بل لوری د دی قصی په ضمن کښی د هغو احوالو او حوادثو چه تذکره کيدونکی وه هغه له څو جهاتو د نبی کريم عليه افضل الصلوٰة والتسليم او د ده د قوم له حالاتو سره مشابهت درلود (لرلو)، چه د هغه ذکر د رسول الله مبارک په حق کښی د تسکين او اطمينان موجب او د دوی د قوم په حق کښی د پند او عبرت سبب ؤ د دغو وجوهو لامله (له وجی) دغه پوره واقعه په بسط او تفصيل سره قرآن کريم بيان وفرمايله څو سائلينو ته معلوم شی چه اسرائيل يعنی يعقوب عليه السلام او د ده د اولادی د راتګ سبب له شامه مصر ته د حضرت يوسف عليه السلام واقعه ده چه بيا هملته ئی نسل منتشر او خور شو. تر هغه چه حضرت موسیٰ راغی او دوی ته ئی د فرعون او قبطيانو له غلامی څخه نجات ورکړ.

---

إِذْ قَالَ يُوسُفُ لِأَبِيهِ يَٰٓأَبَتِ إِنِّى رَأَيْتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ رَأَيْتُهُمْ لِى سَٰجِدِينَ ﴿٤﴾

---

(ياد کړه) هغه وقت چه ووېل يوسف پلار خپل (يعقوب) ته ای پلاره زما بيشکه ما وليدل (په خوب کښی) يوولس ستوری او لمر او سپوږمی وليدل ما دوی چه ماته سجده کوونکی وو.

---

**تفسير:** يعنی يوولس ستوری او لمر او سپوږمی زما په مخکښی سرونه ښکته کوی او راتيټيږی دغه خوب ئی په هلکتوب کښی ليدلی ؤ. هوا د پوهی او بری نښی، آثار او علامی د ورکيو په سترګو کښی له ورا بريښی.

---

قَالَ يَٰبُنَىَّ لَا تَقْصُصْ رُءْيَاكَ عَلَىٰٓ إِخْوَتِكَ فَيَكِيدُوا۟ لَكَ كَيْدًا ۖ إِنَّ ٱلشَّيْطَٰنَ لِلْإِنسَٰنِ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿٥﴾

**وویل (یعقوب) ای بچوریه زما مه بیانوه (مه ښکاروه دا) خوب خپل ورونو خپلو ته نو حیله (تدبیر) به وکړی دوی (هلاک د) تاته په حیله (تدبیر) کولو سره، بیشکه چه شیطان انسان ته دښمن دی ښکاره (نه چه د دوی په زړونو کښې کینه واچوی تاته)**

---

**تفسیر:** یعنی شیطان هر وقت انسان ته په پټونی کښې ناست دی او په زړونو کښې وسوسې ورآچوی ورونه به ستا په خلاف درته پورته کوی. ځکه چه د ده د خوب تعبیر دیر ظاهر ؤ او د یوسف علیه السلام ورونو ته چه په هر حال د نبوت له کورنی ځنی وو، د داسی یوه واضح خوب په تعبیر پوهیدل دومره مشکل نه ؤ. چه یوولس ستوری ئی یوولس ورونه دی، او سپوږمی او لمر مور او پلار ئی دی. ګواکی دوی ګرد (تول) به په کوم وقت کښې د یوسف علیه السلام د شان د عظمت په مقابل کښې سرونه ښکته کوی. لکه چه د دی سورت په آخر کښې ﴿ يَٰٓأَبَتِ هَٰذَا تَأْوِيلُ رُءْيَٰىَ مِن قَبْلُ قَدْ جَعَلَهَا رَبِّى حَقًّا ﴾ په ویلو سره دغه لوری ته اشاره وکړه.
معلومیږی چه حضرت یعقوب علیه السلام له دی خوبه پخوا هم دغه خبره محسوسه کړی وه چه له یوسف علیه السلام سره ئی خصوصی محبت کاوه چه د هغه له لیدلو څخه د ده علاتی ورونه پټ په زړونو کښې سره سوځیدل او له ده سره به ئی رخی (کینی) کولی، نو ځکه یعقوب علیه السلام ته داسی یو خیال پیدا شو، که هغوی دغه خوب واوری نو لا د حسد او رخی (کینی) په اور کښې به د دوی زړونه سوځی او شیطان به د دوی په زړونو کښې لا د حسد او رخی (کینی) لمبی بلی او وچتی کړی امکان لری چه دوی داسی حرکت وکړی چه په هغه کښې د یوسف علیه السلام اذیت او پخپله د دوی د رسوائی او بد انجامی موجب وی نو ځکه یعقوب علیه السلام یوسف علیه السلام منع کړ چه خپل خوب دی نورو ورونو ته مه ښکاروه تر دی چه یوسف علیه السلام ته ئی اجازه ور نه کړه چه خپل سکه ورور «بنیامین» ته هم د هغه خوب ذکر وکړی اګر که له هغه ځنی د کومی خرابی اندیښنه نه وه لیکن ممکن ؤ چه هغه ئی په بی احتیاطی سره نورو ته ووائی، او په دی دول (طریقه) دغه خبره په خلقو کښې خوره او شائع شی.
**تنبیه:** حافظ ابن تیمیه رحمة الله علیه په یوی مستقلی رسالی کښې لیکلی دی چه نه قرآن نه لغت نه عقلی اعتبارات او نه بل شی د دی خبری تائید کوی چه **«اخوان الیوسف انبیاء»** ؤ او نه رسول الله مبارک داسی فرمایلی دی، او نه له اصحاب الکرامو ځنی کوم یو د دغی خبری قائل ؤ. په رښتیا سره عقوق الوالدین، قطع الرحم، د مسلمان ورور قتل ته اقدام، او هغه مریی څرګندول او پلورل (خرڅول) ئی او د دارالکفر په لوری ئی لیږل. بیا صریح دروغ ویل او حیلی او پلمی (تدبیرونه) جوړول او نور داسی شنیعه حرکات څرنګه د یوه نبی په طرف، اګر که پخوا له بعثته هم وی، منسوبیدی شی. (العیاذ بالله) هغه کسان چه د اخوان الیوسف علیه السلام د نبوت خیال څرګندوی له هغوی سره ماسواء د (اسباط) له لفظ بل کوم دلیل نشته حال دا چه

(اسباط) خاص صلبي اولاد نه دى بلكه اقوامو او اممو ته وائى او د بني‌اسرائيلو تقسيم په اسباط سره د حضرت موسىٰ عليه السلام په زمانه کښې وشو.

وَكَذَٰلِكَ يَجْتَبِيكَ رَبُّكَ وَيُعَلِّمُكَ مِن تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ وَيُتِمُّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ وَعَلَىٰ آلِ يَعْقُوبَ كَمَا أَتَمَّهَا عَلَىٰ أَبَوَيْكَ مِن قَبْلُ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ ۚ إِنَّ رَبَّكَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٦﴾

او هم دا رنګه (چه په دغه خوب سره غوره شوى ئى ته) غوره به کړى تا رب ستا او وبه ښيى تاته څه له ګرځولو د خبرو (خپلو ځايونو ته لکه تعبير د خوبونو، بيان د کتابونو)، او پوره به کړى نعمت خپل پر تا او پر (نورى) کورنى د يعقوب (په نبوت) لکه چه پوره کړى ئى دى دا نعمت پر دوو پلرونو (په نيکه او ور نيکه) ستا پخوا له تانه چه ابراهيم دى او اسحٰق دى، بيشکه چه رب ستا ښه عالم دى (پر ټولو احوالو) ښه حکمت والا (چه هر کار په تدبير او مصلحت سره کوى.)

**تفسير:** يعني هم داسى چه دغه ښه خوب ئى دروښود، همغسى محض د خپل رحمت په جاذبه سره د خپل قرب په دربار کښې تاته خصوصي مقام عطا فرمائى لکه چه نبوت ئى درعطا کړ او په راز راز (قسم قسم) ظاهرى او باطنى مهربانيو سره ئى وپاللى.

﴿ وَيُعَلِّمُكَ مِن تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ ﴾ او وبه ښيى الله تعالىٰ تاته له ګرځولو د خبرو خپلو ځايونو ته) مثلاً د رؤياؤ تعبير يعني چه د خوب پېښه واورى، او د هغه اجزاء پخپل ذهانت او فراست پخپل ځاى کښې ولګوى يا د هرى خبرى په محل او موقع پوهيدل، او د معاملاتو پر عواقبو او نتائجو پوهيدل سم له لاسه ئى سنجول (حل کول) يا د پاک الله او انبياء الله ارشادات او د اقوامو او د اممو د قصو او د منزله ؤ کتابونو د مضامينو تر ژورو معانيو پورى رسيدل دغه ګرد (ټول) شيان د «تاويل الاحاديث» لاندى مندرج کيدى شي.

﴿ وَيُتِمُّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ وَعَلَىٰ آلِ يَعْقُوبَ ﴾ او پوره به کړى الله نعمت خپل پر تا او پر نورى کورنى د يعقوب په نبوت) يعنى له اخروى نعمتونو سره دنيوى نعمتونه به هم عطا کوى. له نبوت سره په سلطنت کښې به هم برخه ورته ورکوى. او له شدائدو او محنتونو څخه به ورته نجات ورکوى او د خوښى او خوشالى او هوسائى (آرام) ژوندون به ور په برخه کوى. د يعقوب عليه السلام کورنى به له دنياوى مکروهاتو او مادى تکاليفو څخه خلاصوى او وروسته له دى نه د ده په نسل کښې به لوى لوى انبياء او بادشاهان پيدا کوى.

﴿ كَمَآ أَتَمَّهَا عَلَىٰٓ أَبَوَيۡكَ ﴾ لكه چه پوره كړى ئى دى دا نعمت پر دوو پلرونو په نيكه او ور نيكه ستا پخوا له تانه چه ابراهيم عليه السلام او اسحٰق دى) حضرت يعقوب عليه السلام تواضعاً خپل نوم وانه خيست، او د خپل پلار اسحٰق او د هغه پلار حضرت ابراهيم عليه السلام ذكر ئى وفرمايه. الله تعالىٰ حضرت ابراهيم عليه السلام خپل نبى او خليل ګرځولى ؤ، او د ده دښمن نمرود ئى هلاک کړ. او د اور شعلى ئى پرى ګلزارى كړى. حضرت اسحٰق عليه السلام ته ئى نبوت ورعطا كړ بيا د ده له صلبه ئى د حضرت يعقوب عليه السلام په شان يو نبى پيدا كړ چه له هغه څخه د بنى‌اسرائيلو د ګردو (تولو) انبياؤ سلسله پيدا شوى ده په صحيح حديث كښى راغلى دى **الكريم ابن الكريم ابن الكريم يوسف بن يعقوب بن اسحٰق بن ابراهيم**

**تنبيه:** هغه پخوا ويل چه حضرت يعقوب عليه السلام كړى دى، د هغه څه برخه خو غالباً د حضرت يوسف عليه السلام له خوبه پوهيدلى دى چه هغه په دغه لږ عمر كښى داسى موزون او مبارک خوب ليدلى ؤ او څه ئى د حضرت يوسف عليه السلام له خصائلو او شمائلو ويلى دى يا به پرى د الله تعالىٰ د وحى په ذريعه مطلع شوى وى.

﴿ إِنَّ رَبَّكَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴾ بيشكه چه رب ستا ښه عالم دى پر تولو احوالو او ښه حكمت والا دى چه هر كار په تدبير او مصلحت سره كوى) او د هر يوه د مناسبت او استعداد څخه باخبر دى، او پخپل حكمت هر چا ته مناسب فيض وررسوى.

---

لَّقَدۡ كَانَ فِى يُوسُفَ وَإِخۡوَتِهِۦٓ ءَايَٰتٌ لِّلسَّآئِلِينَ ۝٧

---

خامخا په تحقيق چه ؤ په (قصى د) يوسف او ورونو د ده كښى دلائل (د قدرت د الله او نبوت ستا) دپاره د پوښتنو كوونكو

---

**تفسير:** يعنى هغه خلق چه د داسى واقعاتو پوهيدلو پسى ګرځى. او كومى نتيجى پورى رسيدل غواړى، هغوى ته د يوسف عليه السلام او د يوسف عليه السلام د ورونو په قصه كښى د هدايت او عبرت لوى دلائل شته. د دى قصى له آوريدلو څخه په زړونو كښى د الله تعالىٰ د عظيم قدرت او حكمت نقش كلک تينګيږى او د نبى كريم صلى الله عليه وسلم د صداقت ښكاره ثبوت په لاس راځى. چه دوى سره له اميتوبه. او بى له كومه معلمه يا كتابه يا نورو څخه د استفاده كولو داسى منقح او منضبطه تاريخى حقائق انكشاف فرمايى چه د هغو د بيان توجيه غير له ربانى اعلامو په بل شى نشى كيدى. خصوصاً د مكى قريشو ته چه د يهودانو په لمسون د دغى قصى په متعلق له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ئى پوښتنى كولى په دغى واقعى كښى ډير لوى عبرت ښوونكى درس دى چه په همغه ډول (طريقه) چه حضرت يوسف عليه السلام ئى ورونو د دوى له كوره وويست او د حسد له لورى د ده د وژلو يا له وطنه د فرارولو مشورى ئى سره كولى. او

راز راز (قسم قسم) ربړونه (تکلیفونه) ئی وررسول او د ده په اهانت او استخفاف کښې ئی هیڅ قصور او کمی ونه کړ بالاخر یو ورځ داسی هم راغله چه د یوسف علیه السلام په لوری سره له ندامته او احتیاجه راغلل. او الله تعالیٰ یوسف علیه السلام ته د دین او دنیا اعلیٰ مناصب ور په برخه کړل، او ده د خپل عروج او اقتدار په وقت کښې له خپلو ورونو له جرائمو ځنې سترګی پټی کړی، او په ډیر لوی زړه سره ئی د دوی ګرد (تول) قصورونه ورمعاف کړل. عیناً په هم دغه ډول (طریقه) د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم قومی ورونو د دوی په نسبت هم ناپاکی پلمی (تدبیرونه) او حیلی جوړی کړی. درد او ربړ (تکلیف) ئی ور ورساوه. پر عزت، پت او حیثیت ئی حملی وکړی څو ئی مجبور کړ چه خپل وطن هم پرېږدی لیکن ژر تر ژره هغه ورځ راتلونکی وه کله چه دی له وطنه جدا شو. او د بری او د شان د رفعت لمر ئی روڼ وځلید، او څو کاله وروسته د مکی معظمی د فتحی هغه تاریخی ورځ ورسیده چه په هغی کښې دوی د خپلو ګردو (تولو) قومی او وطنی ورونو له تیرو تقصیراتو څخه ورتیر شول او عیناً همغه د حضرت یوسف علیه السلام کلمات ﴿لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ﴾ ئی وفرمایل او پر هغو ګردو (تولو) تقصیراتو ئی د عفوی قلم راکښو.

إِذْ قَالُوا لَيُوسُفُ وَأَخُوهُ أَحَبُّ إِلَىٰ أَبِينَا مِنَّا وَنَحْنُ عُصْبَةٌ إِنَّ أَبَانَا لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٨﴾ اقْتُلُوا يُوسُفَ أَوِ اطْرَحُوهُ أَرْضًا يَخْلُ لَكُمْ وَجْهُ أَبِيكُمْ وَتَكُونُوا مِن بَعْدِهِ قَوْمًا صَالِحِينَ ﴿٩﴾

(یاد کړه) هغه وقت چه وویل دغو (لسو ورونو یو بل ته) خامخا یوسف او ورور ئی (بنیامین) ډیر ګران دی پلار زمونږ ته له مونږ ځنی حال دا چه مونږ ډله یو قوتناکه (د مینی وړ)، بیشکه پلار زمونږ خامخا په خطا ښکاره کښی دی (نو پر دغه خبره ئی سره ترون وکړ) ووژنئ یوسف یا وغورځوئ تاسی هغه په کومی ځمکی (لری) کښی چه وزګار (او خالص) شی تاسی ته مخ (د توجه) د پلار ستاسی، او شئ به تاسی وروسته له دی (کار) یو قوم صالحان.

**تفسیر:** حضرت یعقوب علیه السلام له حضرت یوسف علیه السلام او د ده د عینی ورور «بنیامین» سره زیات محبت کاوه. ځکه چه دوی دواړه له خپلو نورو علاتی ورونو ځنی وړوکی ؤ. او د دوی مور هم مرحومه شوی وه او خاص د حضرت یوسف علیه السلام په نسبت د فراست له نوره، یا له ربانی الهامه پوهیدلی ؤ چه د ده مستقبل ډیر روڼ او ځلیدونکی دی او د نبوت د کورنی سلسله د ده له ذاته سره تړلی ده او پخپله د یوسف علیه السلام ښائسته صورت او سیرت،

ظاهری او باطنی کمالاتو د ده د لوی پلار خصوصی محبت خپل لوری ته ورجذباوه. حال دا چه هغه وضعیت پر نورو ورونو ډیر سخت تیریده. دوی به سره ویل چه د ضرورت په وقت د کار سری خو مونږ یو او زمونږ دله د قوت او قدرت خاونده چه د پلار د ضعیفئ په وقت کښی هم په کار ورتلی شو. له دغو وړوکو هلکانو څخه هیڅ هیله (طمع) او امید نشی کیدی. نو د هم دغو خیالاتو په اثر د خپل لوی پلار په نسبت به ئې ویل چه دی په دغه معامله کښی په سخته غلطئ او صریحه خطا کښی دی. او د خپلی نفعی او نقصان صحیحه موازنه نه کوی.

﴿ اقۡتُلُوا يُوسُفَ ﴾ الآیة - ووژنئ تاسی یوسف یا وغورځوئ تاسی هغه په کومی لری ځمکی کښی چه وزګار او خالص شی تاسی ته مخ د توجه د پلار ستاسی) یعنی د حسد او رخی (کینی) اورونه د دوی په زړونو کښی دننه لګیدل. بالاخر دوی په خپلو منځونو کښی سره مشوری وکری چه د یوسف علیه السلام په موجودیت کښی امکان نه لری چه د خپل لوی پلار خصوصی محبت او توجه مونږ خپل لوری ته کش کری شو. نو ځکه ښائی چه د یوسف علیه السلام خبره هم دلته پای (آخر) ته ورسوو یا خو دی ووژلی شی یا دی په کوم لری ملک کښی وغورځاوه شی. چه له هغه ځایه بیا بیرته رانشی کله چه دی نه وی نو د پلار ګرده (توله) توجه به زمونږ په لوری متوجه کیږی او د ده د ګردو (تولو) مهربانیو یواځی مونږ حقداران پاتی کیږو د «بنیامین» معاملی ته دوی غالباً څه اهمیت نه ورکاوه لکه چه د هغه محبت ئې د یوسف علیه السلام د محبت ضمیمه ګڼله.

﴿ وَتَكُونُوا مِنۢ بَعۡدِهِۦ قَوۡمٗا صَٰلِحِينَ ﴾ او شئ به تاسی وروسته له دی کار یو قوم صالحان) یعنی یو ځلی د قتل او نورو ګناهونو ارتکاب واقع کیږی، او وروسته د هغه له فراغته بیا به توبه کوو او ښه نیک سری به کیږو یعنی هم په رندانو کښی رند حسابیږو، او هم جنت به له لاسه نه ورکوو. ځینو مفسرینو د «وتکونوا من بعده قوما صالحین» معنی داسی اخیستی ده چه وروسته له یوسف علیه السلام زمونږ ګرد (تول) کارونه پخپله ښه کیږی، ځکه چه د لوی پلار د شفقت لاس له یوسف علیه السلام څخه لند او مایوس کیږی، او یواځی زمونږ پر سرونو به راکش کیږی.

---

قَالَ قَآئِلٞ مِّنۡهُمۡ لَا تَقۡتُلُوا يُوسُفَ وَأَلۡقُوهُ فِي غَيَٰبَتِ ٱلۡجُبِّ يَلۡتَقِطۡهُ بَعۡضُ ٱلسَّيَّارَةِ إِن كُنتُمۡ فَٰعِلِينَ ۝١٠

---

وویل یوه ویونکی له دوی څخه چه مه وژنئ یوسف (چه لویه ګناه ده) او (بلکه) وغورځوئ تاسی هغه په تیاره بیخ د ګمنامی کوهی کښی چه وائی خلی ځینی تیریدونکی (د لاری چه کوم لری ملک ته ئې یوسی) که یئ تاسی کوونکی (د دی بیلتون).

**تفسیر:** داسي ویونکي «یهودا» ؤ یعني وژل ئی لویه ګناه او غته خبره ده، او زمونږ مقصد بی له قتله هم حاصلیدی شی که تاسي د یوسف علیه السلام بیلتون له دی ځایه غواړئ نو آسان صورت ئی دغه دی چه له کلی څخه ئی لری په کوم تیاره ګمنامه کوهی کښی وغورځوئ.
ابوحیان رحمة الله علیه له ځینو اهلاللغت څخه نقل کری دی چه «غیابت الجب» هغی تاخچی او نورو ته وائی چه په کوهی کښی له اوبو څخه لږ څه پاس ئی جوړ کری وی. غرض ئی داسی ؤ چه هرومرو (خامخا) د عمداً هلاکولو ګناه په سر اخیستل نه دی پکار، او په دغسی یوه کوهی کښی له غورځولو څخه وروسته ممکن دی چه کوم مسافر په هغه تیر شی، او له ده ځنی خبر شی او تری وئی کاږی. نو په دغه صورت کښی زمونږ مقصد پخپله حاصلیږی او په ناحقی وینی مو لاسونه نه ککړیږی ګواکی منګور (مار) وژلی کیږی او همسا نه ماتیږی. (پس دوی تول سره په دی متفق شول او پلار ته راغلل)

قَالُوا يَٰٓأَبَانَا مَا لَكَ لَا تَأۡمَ۬نَّا عَلَىٰ يُوسُفَ وَإِنَّا لَهُۥ لَنَٰصِحُونَ ⑪

نو وویل دوی ای پلاره زمونږ څه باعث دی تا لره چه امین نه ګرځوی ته مونږ پر یوسف باندی حال دا چه بیشکه مونږ ده ته خامخا نصیحت ګران (خیر غوښتونکی) یو.

**تفسیر:** له دی نه معلومیږی چه پخوا له دی نه هم دوی داسی غوښتنه له خپله پلاره کړی وه مګر د دوی زړه مطمئن نه ؤ چه یوسف علیه السلام له هغوی سره پریږدی.

أَرۡسِلۡهُ مَعَنَا غَدٗا يَرۡتَعۡ وَيَلۡعَبۡ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ⑫

ولیږه دی له مونږ سره صباح (ورځ صحرا ته) چه وخوری ډیری میوی او لوبی وکړی او بیشکه مونږ ده لره خامخا ساتونکی یو (له هر تکلیفه).

**تفسیر:** یعنی د داسی پیمخی، ښایسته او قوی هلک ګرد (تول) قواء له کوره کښیناستو څخه له کاره وځی. مناسب دی چه له مونږ سره د پسو د څر دپاره صحرا ته لاړ شی. او هلته د صحرائی ګلانو ښه سیلونه وکړی، او میوی ئی وخوری، او ښی لوبی وکړی، او توپونه او منډی ووهی او وځغلی، او نور ښه جسمانی ورزشونه وکړی. وائی چه د هغوی لوبی منډی وهل او غشی ویشتل ؤ. او برسیره پر هغو د وړکیو دپاره تر مناسبی اندازی پوری لکه چه ابوحیان رحمة الله علیه لیکی لوبی او مستی کول د نشاط او خوښی او خوشالی سبب دی. الغرض د یوسف علیه السلام د صحرا بیولو اجازه ئی په ډیری زورورۍ غوښتنی سره له یعقوب علیه السلام څخه وکړه، او په

نهایت مؤکده طریقه سره ئی ورته اطمینان ورکړ چه مونږ به د ده پوره حفاظت کوو مفسرینو لیکلی دی چه دوی یوسف علیه السلام بیل لیدلی او لمسولی ئی ؤ څو دی پخپله هم له پلاره اجازه وغواړی چه هرومرو (خامخا) له خپلو ورونو سره صحرا ته لاړ شي.

قَالَ إِنِّي لَيَحْزُنُنِي أَنْ تَذْهَبُوا بِهِ وَأَخَافُ أَنْ يَأْكُلَهُ الذِّئْبُ وَأَنْتُمْ عَنْهُ غَافِلُونَ ﴿١٣﴾

وویل (یعقوب) بیشکه زه چه یم خامخا غمجنوی می دا چه بیول د تاسی دی یوسف لره او ویریږم له دی نه چه وبه خوری یوسف لره لیوه حال دا چه تاسی به له ده نه غافلان یئ.

**تفسیر:** یعنی د یوسف علیه السلام بیلتون او له تاسو سره د هغه د تللو تصور ما له حده زیات غمجن کوی او پر هغه برسیره له دی نه هم ویریږم چه دی هلک دی. نه چه د تاسی له بی خبری او غفلت څخه کوم لیوه یا بل کوم داړونکی ئی در څخه ونه داړی. او وئی نه خوری. لیکی چه په هغی صحرا (بیدیا) کښی لیوان ډیر زیات ؤ. حضرت شاه صاحب لیکی «څرنګه چه دوی وروسته له دی نه د لیوه بهانه جوړوونکی ؤ نو د هم دی لامله (له وجی) د یعقوب علیه السلام په زړه کښی هم د لیوه ویره ولویده» د ځینو محققینو خیال دا دی چه د ﴿وَأَخَافُ أَنْ يَأْكُلَهُ الذِّئْبُ﴾ فرمایل د حضرت یعقوب علیه السلام په شان د یوه نبی د توکل او تفویض له درجی څخه لږ څه نازله خبره ده، نو د هغو جواب ئی داسی ور ورسید چه د ده ځامنو هم د ده دا د خولی خبره ټینګه کړه او همغه اندیښنه چه ده ورښکاره کړی وه. هغه ته ئی د واقعی صورت ورکړ او همغسی یوه پلمه (بهانه) ئی ورجوړه کړه.

قَالُوا لَئِنْ أَكَلَهُ الذِّئْبُ وَنَحْنُ عُصْبَةٌ إِنَّا إِذًا لَخَاسِرُونَ ﴿١٤﴾

(نو بیا ورونو د یوسف) وویل قسم دی که وخوری یوسف لره لیوه حال دا چه مونږ ډله قوتناکه یو نو بیشکه مونږ به دغه وقت کښی خامخا له زیان کارانو (عاجزانو) څخه یو.

**تفسیر:** یعنی که زمونږ په شان د یوی قوتناکی ډلی په موجودیت کښی زمونږ وړوکی ورور لیوه وخوری، نو وپوهیږئ چه مونږ له کاره وتلی او بیکاره ځلمیان یو. او له دغی خبری ځنی بله کومه خرابه او نقصانمنه خبره به وی چه د لسو یولسو قوتناکو ورونو په منځ کښی یو وړوکی

هلک د ليوه خولي. ته ورسيږي او که داسي کومه پيښه واقع شي نو البته چه مونږ خپل گرد (تول) شيان له لاسه ورکړی دی.

فَلَمَّا ذَهَبُوا بِهِ وَأَجْمَعُوا أَن يَجْعَلُوهُ فِي غَيَابَتِ الْجُبِّ وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِ لَتُنَبِّئَنَّهُم بِأَمْرِهِمْ هَٰذَا وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿۱۵﴾

نو کله چه بوتلو دوی يوسف لره (نو ئی ډير په تکليف کړو) او اتفاق ئی سره وکړ په دی چه وغورځوی دی په تياره بيخ د کوهی (گمنامی کښی، نو وئی غورځاوه) او وحی وکړه مونږ يوسف ته (چه وبه دی باسو د کوهی او عاجز درکينوو دغه ورونه) چه ته به خامخا خبر ورکړی دوی ته په کار د دوی چه دغه دی حال دا چه دوی به نه پوهيږی (چه ته يوسف ئی).

**تفسير:** مفسرينو ډيری داسی ضمنی قصی په داسی درد زياتوونکی او رقت غورځوونکی ډول (طريقه) سره نقل کړی دی، چه د هغو له آوريدلو څخه د تيږی (گټی) زړه هم خوږيږی او د هغو لوستل سری ډير ژړوی خدای خبر چه هغه به تر کومه حده پوری صحيح وی. لوی قرآن د خپل خاص نصب‌العين په اعتبار دا قسم تفصيلاتو ته زياته اعتناء نه ده کړی، او نه ئی د يادولو وړ (لائق) گڼلی ده. ځکه چه له دغو اجزاؤ سره هيڅ يو مهم مقصد نه دی تړلی. قرآن کريم د خپل سامعينو په زړونو کښی هغه رقت پيدا کول غواړی چه منشا ئی خاص ايمان او عرفان وی. عام رقت چه په هغه کښی هر کافر او هر مؤمن بلکه تر حيواناتو پوری هم طبعاً گډ او شامل دی. پر هغه لکه عامو خطباؤ زور اچول د پاک قرآن عادت نه دی. نو دلته هم هغه گردی (تولی) ضمنی خبری ئی حذف کړی، اخری خبره ئی دا وښوده چه د يوسف عليه السلام ورونه په لطائف‌الحيل سره له پلاره ځنی يوسف عليه السلام يووړ. او سم له تړلی شوی قرارداده د هغه کوهی په منځ کښی د غورځولو ترتيبات ئی ونيول. په دغه وقت کښی مونږ يوسف عليه السلام ته داسی اشاره وکړه چه پر هغه باندی له سره نور خلق ونه پوهيدل چه بيخی مه ويريږه ځکه چه داسی يو وقت هم راتلونکی دی چه دغه گردی (تولی) چاری به ته دوی ته ور په يادوی. او په هغه وقت کښی به ته په داسی يو لوړ (اوچت) مقام او لويه مرتبه کښی ئی چه دوی به دی له سره نشی پيژندلی. يا د عهد د طوالت لامله (له وجی) به دی دوی نشی پيژندلی. دغه غيبی اشاره په خوب کښی شوی يا په ويښه کښی؟ د الهام په ذريعه شوی که د پرښتی په وسيله؟ د دغه تفصيل په لوی قرآن کښی نشته. البته د ظاهرو الفاظو له ليدلو څخه دا ويلی شو چه د وحی راتلل په څلويښت کلنی پوری نه ده موقوفه ځکه چه د حضرت يوسف عليه السلام عمر په دغه وقت کښی ډير لږ ؤ. والله اعلم.

وَجَآءُوٓ أَبَاهُمۡ عِشَآءٗ يَبۡكُونَ ﴿١٦﴾

او راغلل دوی پلار خپل ته بیگا (په تیاره کښی) چه ژړل ئی (په دروغو سره)

**تفسیر:** څو چه دوی خپلو کورونو ته بیرته راغلل تیاره شوه. یا قصداً په تیاره کښی راغلل، چه د ورځی په رڼا کښی د پلار مخ ته کتل دوی ته ډیر مشکل ښکاریده، او د شپی تور تکری (څادر) تر یوی اندازی پوری د بی حیائی، بی رحمی. او د دروغو ژړا او انګولا څه پرده داری کولی شی.
(اعمش رحمة الله علیه) څرنګه ښه فرمایلی دی چه «د یوسف علیه السلام د ورونو د ژړا او بکاء اوریدلو څخه وروسته مونږ هیڅ یو سړی په تشی ژړا سره رښتین نشو ګڼلی.»

قَالُواْ يَٰٓأَبَانَآ إِنَّا ذَهَبۡنَا نَسۡتَبِقُ وَتَرَكۡنَا يُوسُفَ عِندَ مَتَٰعِنَا فَأَكَلَهُ ٱلذِّئۡبُۖ وَمَآ أَنتَ بِمُؤۡمِنٖ لَّنَا وَلَوۡ كُنَّا صَٰدِقِينَ ﴿١٧﴾

وویل دوی چه ای پلاره زمونږ بیشکه چه مونږ لاړو مسابقه مو سره کوله (په غشو ویشتلو او ځغښتلو) کښی او پریښود مونږ یوسف (یواځی) په نزد د اسباب خپل نو وخوړ ده لری لیوه، او نه ئی ته باور کوونکی مونږ لره (په دی خبری) او اګر که یو مونږ رښتینی.

**تفسیر:** یعنی مونږ په حفاظت کښی هیڅ قصور نه دی کړی چیری چه زمونږ کالی (جامی) او اسباب او نور د کار او د ساتنی وړ (لائق) شیان ایښی شوی ؤ، مونږ همغلته یوسف علیه السلام یواځی کیناوه او مونږ صحرا ته لاړو چه یو تر بله وړاندی شو په منډو او غشو ویشتلو کښی، نو چه لږه شیبه زمونږ سترګی تری واوښتی لیوه راغی او یوسف ئی له مونږ څخنی وتښتاوه، حال دا چه په داسی یوه لږه موقع کښی له سره د داسی احتمال امکان نه ؤ چه سم له لاسه لیوه ور ورسیږی او علی‌الفور یوسف علیه السلام ښکار کړی.
﴿ وَمَآ أَنتَ بِمُؤۡمِنٖ لَّنَا وَلَوۡ كُنَّا صَٰدِقِينَ ﴾ او نه ئی ته باور کوونکی مونږ لره په دی خبره اګر که یو مونږ رښتینی هم) یعنی د یوسف په معامله کښی لا له ابتداء څخه تاسی پر مونږ بدګمانه یئ! که مونږ تاسی ته بیخی صحیح او رښتیا خبره هم وکړو، خو بیا هم تاسی په دغه مخصوصه معامله کښی زمونږ پر خبرو باور کوونکی نه یئ په هیڅ شان.

وَجَآءُوْ عَلٰى قَمِيْصِهٖ بِدَمٍ كَذِبٍؕ قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ اَنْفُسُكُمْ اَمْرًاؕ فَصَبْرٌ جَمِيْلٌؕ وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ۝۱۸

او راوړه دوی د پاسه په کمیس د یوسف باندی وینه دروغه، نو وویل (یعقوب خپلو ځامنو ته چه دا تول دروغ دی) بلکه ښائسته کړی دی تاسی ته نفسونو ستاسی یو (لوی بد) کار، نو کار زما صبر جمیل دی (چه پکښی هیڅ شکایت ونه کړم خلقو ته) او (له هم دغه) الله څخه مدد غوښتلی شی په (تحمل د) هغی (خبری) کښی چه تاسی ئی بیانوئ (له هلاکه د یوسف).

**تفسیر:** یو وځګوړی (چیلی) یا هوسی یا بل حیوان ذبح کړ، او د یوسف علیه السلام یو کمیس ئی د هغه په وینو سره ولاړه، او هغه ئی پلار ته راوړ، او په دغه دروغو وینو سره ئی کوښښ کاوه چه د پلار یقین پر خپله دغه خبره راولی چه دغه دی لیوه یوسف علیه السلام ئی داړلی او خوړلی چه کمیس ئی په وینو سره لړلی دی. نو وویل یعقوب خپلو ځامنو ته چه دا تول دروغ دی، بلکه ښائسته کړی دی تاسو ته نفسونو ستاسی یو لوی بد کار، نو کار زما صبر جمیل دی چه پکښی هیڅ شکایت ونه کړم خلقو ته او له هم دغه الله څخه مدد غوښتلی شی په تحمل د هغی خبری کښی چه تاسی ئی بیانوئ، له هلاکه د یوسف ښه هغه لوی سړی چه په شام کښی ناست له مصر څنی د یوسف علیه السلام د کمیس ښه وږم باندی پوهیده، هغه وځګوړی (چیلی) پر وینه څرنګه د یوسف علیه السلام د وینی ګمان کولی شو. ځکه په مجرد د آوریدلو د دی خبری ئی د دروغو حکم پری وکړ او لکه چه په ځینو تفاسیرو کښی دی چه یعقوب علیه السلام وویل هغه لیوه په رښتیا سره عجیب حلیم او متین او انصاف داره وه چه له کمیسه سره ئی هیڅ غرض نه دی کړی او یوسف علیه السلام ئی صحیح او سالم په ډیر احتیاط سره تری ایستلی او تښتولی او خوړلی دی. په رښتیا سره چه «دروغجن د یاد خاوند نه وی» کمیس ئی خو په وینو سره ولاړه، مګر دومره ئی خیال ونه کړ، چه هغه کمیس به ئی په بی ترتیبی سره هم څیرلی او شلولی وی. او بیا ئی سره له دغو ویناؤ خپل پلار ته ژړاندی کړی وی، نو حضرت یعقوب علیه السلام په صاف ډول (طریقه) سره وفرمایل چه دغه ګردی (تولی) ستاسی حیلی او پلمی (تدبیرونه) او له خپله ځانه جوړی کړی خبری دی. په هر حال زه جمیل صبر ځان ته اختیاروم چه په هغه کښی نه د بل چا په مخ کښی به شکوه او شکایت وکړم، او نه له تاسی څخه د انتقام په کوښښ کښی یم. یوازی د خپل پاک الله له درباره غواړم چه په دغه صبر کښی زما مدد وفرمائی او په خپل غیبی اعانت سره د هغی خبری حقیقت چه تاسی ئی ظاهروئ په داسی شان راښکاره کړی چه په سلامتی سره بیا یوسف علیه السلام سره وګورم، او د هغه لقاء

مى په برخه شى. معلوميږى چه يعقوب عليه السلام ته اطلاع وركړى شوى وه چه په دغه ابتلاء كښې په پوره دول (طريقه) سره د دوى ازموينه كيږى، او د يوه تاكلى (مقرر كړى) مدت څخه وروسته له دغه مصيبته به نجات مومى. فى‌الحال له لتولو. او د انتقامى تدابيرو له غوره كولو څخه هيڅ يوه فائده په لاس نه راتله. او يوسف عليه السلام ئى اوس په لاس كښې نه لويږى. البته زما نور ځامن به كرد (تول) جهان كښې رسوا كيږى. او امكان لرى چه دوى په قهر او غضب كښې پخپله يعقوب عليه السلام ته هم د څه ضرر رسولو دپاره كوښښ وكړى. كذا قال امامنا الرازى رحمة الله عليه فى تفسيره الكبير والله اعلم.

وَجَآءَتۡ سَيَّارَةٞ فَأَرۡسَلُواْ وَارِدَهُمۡ فَأَدۡلَىٰ دَلۡوَهُۥۖ قَالَ يَٰبُشۡرَىٰ هَٰذَا غُلَٰمٞۚ وَأَسَرُّوهُ بِضَٰعَةٗۚ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِمَا يَعۡمَلُونَ ﴿١٩﴾

او راغله قافله (له مدين چه مصر ته تله) نو وليږه دوى اوبه راوړونكى خپل (مالک) نو (څوړنده) خوشى ئى كړه بوكه خپله (په كوهى كښې نو ونښت يوسف په دغى بوكى پورى كله چه وئى ليده) نو وى ويل اى خوشاليه زما (راحاضره شه! چه دغه دى وقت دى) چه دا يو هلک دى ډير ښائسته، او پټ كړ دوى هغه د تجارت د مال په توګه (طور)، او الله ښه عالم دى په هغو كارونو چه كول (ورونو د يوسف له بى رحمى).

**تفسير:** وائى چه تر درى ورځو پورى يوسف عليه السلام په هغه كوهى كښې د پاک الله په قدرت خوښ او محفوظ ديره ؤ، د ده د يوه ورور (يهودا) په زړه كښې دغه خبره ولويده چه هره ورځ ورته په همغه كوهى كښې ډوډى، ورسوى، او برسيره په هغه نورو ورونو ئى هم خبر اخيست چه هلته مړ نشى، او د كوم بل ملک مسافر ئى ترى وباسى، او له ځان سره ئى بوځى او زمونږ له منځه دغه اغزى ورک شى، رښتيا ده چه «د غليمانو (دښمنانو) په ستركو اغزى ښكارى ګل» بالاخر له مدين څخه يوه قافله د مصر په لورى تله، كله چه د دغه كوهى له خوا تيريده. او د هغوى نظر پر هغه كوهى ولويد نو يو سړى ئى د اوبو آخيستلو دپاره ورولیږه. ده چه خپله بوكه وغورځوله نو حضرت يوسف عليه السلام چه وړوكى هلک ؤ ژر په هغى بوكى كښې كيناست او پړى ئى په خپل لاس تينګ ونيو. او له كوهى څخه ووت كله چه د بوكى كشوونكى سترګى پرى ولګيدى نو د يوسف عليه السلام د حسن او جمال له ليدلو څخنى له حده تير خوشال شو. او ناڅاپه ئى له خولى څخه دغه غږ پورته شو چه عجيبه هلک دى او په ډير ښه قيمت پلورل (خرڅول) كيږى!.

﴿ وَأَسَرُّوهُ بِضَٰعَةٗ ﴾ او پټ كړ دوى هغه د تجارت د مال په توګه (طريقه)) يعنى بوكه كشوونكى

د دغی خبری له خپلو نورو ملگرو څخه د پټولو په فکر کښې ؤ چه که نور پری خبر شول نو گرد (ټول) به راسره شریکیږی ځکه چه داسی ئی وربښکاره کړی وی چه دغه غلام ماته د ده مالکینو راکړی دی چه د مصر په بازار کښې ئی هغوی ته وپلورم او په ښو پیسو ئی ورخرڅ کړم.)

یعنی د ورونو مطلب داسی ؤ چه یوسف علیه السلام له وطنه لری وشړی او پردیسی ئی کړی. او د قافلې خاوندانو اراده کړی وه چه یوسف علیه السلام وپلوری (خرڅ کړی) الله تعالیٰ اراده فرمایلی وه چه هغه د مصر د خزائنو مالک وگرځوی که د پاک الله اراده شوی وی، نو دغه گردی (ټولی) چاری ئی په یوه شیبه (لحظه) کښې هم بندولی شوی، لیکن د هغه مصلحت په تاخیر کښې ؤ. نو ځکه پر گردو (ټولو) شیانو سره له پوهیدلو او لیدلو. هغوی ته ئی مهلت ورکړ.

وَشَرَوْهُ بِثَمَنٍۭ بَخۡسٖ دَرَٰهِمَ مَعۡدُودَةٖ وَكَانُواْ فِيهِ مِنَ ٱلزَّٰهِدِينَ ﴿٢٠﴾

او وپلوره (خرڅ کړ) دوی هغه (ورور خپل) په پیسو ناکارو سره چه یو څو روپۍ وی شمیرلی شوی (لږی)، او ؤ دوی په حق د یوسف کښې له بی رغبتانو.

**تفسیر:** یعنی د یوسف علیه السلام ورونه خبر شول چه قافلې یوسف علیه السلام له کوهی څخه وویست او له ځان سره ئی بوته نو ژر وریسی ورغلل، او دا ئی وربښکاره کړه چه دغه زمونږ مریی دی چه په تیښته سره راغلی دی. څرنگه چه د ده عادت دی چه تل تښتی نو ځکه مونږ نه غواړو چه وروسته له دی نه ئی وساتو که ئی پیرئ (اخلئ) نو پیرودلی (اخیستلی) ئی شئ. مگر دیر کلک ئی وساتئ چه چیری درڅخه ونه تښتی وائی چه په اتلسو درهمو یا په لږ څه دیرو یا کمو ئی وپیرود (خرڅ کړ) ، نو هر یوه ورور په سر دوه دوه درهم (نژدی دوه دوه روپۍ) وروړسیدی، یو ورور ئی چه (یهودا) نومیده هیڅ برخه ئی وانه خیسته.

﴿ وَكَانُواْ فِيهِ مِنَ ٱلزَّٰهِدِينَ ﴾ او وو دغه ورونه په باب د یوسف کښې له بی رغبتانو. یا وو دغه کاروانیان په باب د یوسف کښې له بی رغبتانو له جهته د بی فرمانی او د تیښتی د ده) یعنی له دومره ارزانو پلورلو (خرڅولو) څخه مه متعجب کیږه! دوی له یوسف علیه السلام څخه دومره بیزاره ؤ چه که ویریا ئی ور پریښی وی خو لا هم مستبعد او لری تری نه ؤ هومره پیسی چه د دوی په لاس ورغلی هغه ئی غنیمت وگڼلی ځینی مفسرین وائی چه په دغه آیت کښې د هغه پلورلو (خرڅولو) ذکر دی چه د قافلې خاوندانو وروسته د مصر له رسیدلو څخه وکړل. که داسی وی نو ویلی شی چه د لویدلی څیز قدر ئی ونه کړ. او له دغی اندیښنی څخه چه بیا څوک پری دعوی ونه کړی، او هم د تښتیدلو (آبق توب) عیب ئی آوریدلی ؤ نو ځکه ئی په ارزان قیمت وپلوره (خرڅ کړ) . والظاهر هوالاول والله اعلم.

وَقَالَ الَّذِي اشْتَرٰىهُ مِنْ مِّصْرَ لِامْرَاَتِهٖٓ اَكْرِمِيْ مَثْوٰىهُ عَسٰٓى اَنْ يَّنْفَعَنَآ اَوْ نَتَّخِذَهٗ وَلَدًا ؕ وَكَذٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوْسُفَ فِي الْاَرْضِ ۫ وَلِنُعَلِّمَهٗ مِنْ تَاْوِيْلِ الْاَحَادِيْثِ ؕ وَاللّٰهُ غَالِبٌ عَلٰٓى اَمْرِهٖ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٢١﴾

او وویل هغه سړی (عزیز) چه ئی آخیستی ؤ یوسف او ؤ له (اهله د) مصره ښځی خپلی ته چه په عزت لره ځای د دغه (یوسف او ښه قدر او عزت ئی کوه!) ښائی چه نفع ورسوی مونږ ته یا به ونیسو مونږ دی ځوی (چه دواړه اولاد نه لرو)، او هم داسی (لکه چه نجات مو ورکړ یوسف ته له کوهی څخه او عزیز مو مهربان کړی ؤ پر ده) ځای او قدرت ورکړ مونږ یوسف ته په ځمکه (د مصر) کښی (دپاره د دی چه عدل وکړی) او وښیو مونږ یوسف ته څه له ګرځولو د خبرو (خپل محل ته لکه تعبیر د خوبونو، بیان د کتابونو)، او الله غالب دی په کارونو خپلو (چه هیڅوک ئی نشی رد کولی) ولیکن زیات خلق نه پوهیږی (په دی)

**تفسیر:** وائی کله چه دغه قافله مصر ته ورسیده، لیلام شروع شو او د مصر د عزیز (چه د هغه ځای قائد او مدارالمهام ؤ) پر بولی دغه معامله پای (آخر) ته ورسیده ده خپلی ښځی زلیخا یا راعیل ته وویل «چه دغه هلک ډیر غوره محبوب، هوښیار، او پوه رابرېښی، نو ښائی چه ته ئی ښه په عزت او احترام او پت وساتی! او د مریانو په شان سلوک ورسره ونه کړی. کیږی چه وروسته له لوئیدلو څخه زمونږ په کار راشي. او خپل کاروبار وروسپارو. یا څرنګه چه اولاد نه لرو، دی د خپل ځوی په ځای ودروو.

﴿ وَكَذٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوْسُفَ ﴾ الآیة - او هم داسی لکه چه نجات مو ورکړ یوسف ته له کوهی نه او عزیز مو پری مهربان کړ. ځای او قدرت ورکړ مونږ یوسف ته په ځمکه د مصر کښی دپاره د دی چه عدل وکړی او لپاره د دی چه وښیو مونږ یوسف ته څه له ګرځولو د خبرو خپل محل ته لکه تعبیر د خوبونو بیان د کتابونو) یعنی مونږ پخپل کامل قدرت او لطیف تدبیر یوسف د ده د ورونو د حسد او رخی (کینی) له ربړو (تکلیفونو)، او د کوهی له بندی خانی څخه وساته، او د مصر د عزیز کره مو ورساوه بیا مو د عزیز په زړه کښی د هغه محبت او شفقت وغورځاوه. او په دغه ډول (طریقه) مو هغه ته په مصر کښی یو معزز ځای ورکړ. او د مصریانو په سترګو کښی

مو هغه وجیه او محبوب وګرځاوه څو دغه د راتلونکو ترقیاتو او اعتلاء د اساس په منزله وګرځي، او د بني اسرائیلو دپاره د مصر د هستوګنې وسیله شي. له هغه سره دا هم منظور ؤ چه د مصر له عزیز سره واوسیږي، او له لویانو او مشرانو سره مجلسونه او ملاقاتونه وکړي څو د سلطنت په رموزو او اشاراتو وپوهیږي او د ګردو (ټولو) خبرو پر ځایونو باندې د لګولو او کولو کامله سلیقه او تجربه حاصله شي.

**تنبیه:** د دې سورت په اوله رکوع کښې د «تاویل الاحادیث» لفظ تیر شوی دی د هغه تفسیر دی هلته بیا ولوست شي.

﴿ وَاللّٰهُ غَالِبٌ عَلٰٓى اَمْرِهٖ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴾ او الله غالب دی په کار خپل چه

هیڅوک ئې نشي رد کولی لیکن زیات خلق نه پوهیږي په دې) یعني ورونو غوښتل چه یوسف علیه السلام ښکته وغورځوي لیکن پاک الله یوسف علیه السلام د عزت آسمان ته وخیژوه. زیات کسان له خپلو لنډ لیدلو څخه نشي لیدلی چه د انساني تدابیرو په مقابل کښې د الله تعالیٰ تدبیر او اراده څرنګه غالبیږي او بري مومي؟.

﴿ وَلَمَّا بَلَغَ اَشُدَّهٗٓ اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا ؕ وَكَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٢٢﴾ ﴾

او کله چه ورسید یوسف قوت خپل ته نو ورکړ مونږ ده ته حکم او علم، او هم داسې جزا (بدل) ورکوو نیکوکارانو ته

**تفسیر:** یعني څه مهال (وخت) چه د یوسف ګرد (ټول) قواء د کمال حد ته ورسیده نو د پاک الله له درباره د عظیم علم او حکمت فیض ور ورسید. نهایت مشکله عقدې (غوټې) ئې په خپل رسیدونکي فهم سره حل کولی په دیره ښه توګه (طریقه) او پوه سره ئې د خلقو جرګې او جګړې سره جوړولې. پر دیني دقائقو په ښه ډول (طریقه) سره پوهیده. کومه خبره ئې چه په ژبه سره ویله. هغه به ئې عملاً هم کوله او نورو ته به ئې ورښووله د بې عقلانو له اخلاقو قطعاً پاک او صاف ؤ. په علم الشرائعو پوره ماهر ؤ. علم الرؤیا او د خوب تعبیر د ده مخصوصه برخه وه هو! هغه خلق چه د فطرت په لار ښوونه، یا د صالحینو په تقلید او توفیق پر ازلي نوائبو او حوادثو صابر وي. عمده اخلاق او ښې رشې (عادتونه) او معاملې ئې ځان ته غوره کړې وي، نو څکه الله تعالیٰ پرې داسې انعام فرمائي.

(کله چه یوسف علیه السلام کور د عزیز ته راغی، او عشق د زلیخا نهایت ته ورسید، نو خپل مراد ئې ترې طلب کړ،)

﴿ وَرَاوَدَتْهُ الَّتِىْ هُوَ فِىْ بَيْتِهَا عَنْ نَّفْسِهٖ وَغَلَّقَتِ الْاَبْوَابَ ﴾

وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ ۚ قَالَ مَعَاذَ اللَّهِ ۖ إِنَّهُ رَبِّي أَحْسَنَ مَثْوَايَ ۖ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ ﴿٢٣﴾

او طلب د فريب وكړ ده لره هغه (ښځی) چه دغه يوسف په كور د هغی كښې ؤ دپاره د نفس د ده او كلكې ئې پورې كړې تولې دروازې او بيا وويل دغې ښځې هله زر راشه ته! زه تا لره يمه، وويل يوسف پناه نيسم په الله پورې چه بيشكه عزيز مالک خاوند زما دی چه ښه ئې كړې ده ساتنه زما) نو زه به ولې خيانت كوم په اهل د ده كښې،) بيشكه شان دا دی چه نيكی نه مومې ظالمان) چه د نيكی په ځای بد كوی يا زانيان).

**تفسير:** له دی لوری غيبيه الطافاتو (غيبي مهربانيانو) د حضرت يوسف عليه السلام تربيت په داسی عجيبې او غريبې طريقې سره فرمايه له بل لوری د عزيز ارتينې (ښځې) زليخا د ده په مخ كښې د ډير مزلة الاقدام (قدمونه خويدونكې) امتحان موقع پيدا كړه.

يعنی د حضرت يوسف عليه السلام پر حسن او جمال زليخا مفتونه او مينه شوه.

او د زړه وړلو، او مينه كشولو او سد لړی كولو گرد (تول) سامان او اسباب ئې تول كړل. او غوښت ئې چه د يوسف عليه السلام زړه هم بې واكه كړی. د يوه لوری د عيش او نشاط سامان او د نفساني جذباتو د پوره كولو دپاره هر راز (قسم) سهولتونه او د بل لوری د يوسف عليه السلام شا مدام اوسيدل د زليخا په كور كښې او د زليخا انتهائی مينه او محبت او شفقت له ده سره. او په گوښه (بيله) كوټه كښې په خپله د ښځې له لوری په بيتابی او بې صبری سره داسی غوښتنه كوله او د خپلو او پرديو د تللو او راتللو گرد (تول) ورونه ئې وتړل. له بل لوری د ځلميتوب عمر، د قوت زمانه، د مزاج اعتدال، د تجرد ژوندون دغه گرد (تول) دواعی، او اسباب داسی وو چه د هغو له تصادمه او تماسه د ډيرو لويو زاهدانو تقوىٰ هم گرد گرد آلوزی. مگر هغه ځوک چه د پاک الله له طرفه محسن تاكلی (مقرر كړی) شوی وی. او د علم او حكمت په رنگ سره ئې رنگين كړی وی، او د نبوت د عصمت په لوړو (اوچتو) مقامو ختلی وی، نو پر هغه به ځوک قدرت او مجال ولری او ځرنگه به د شياطينو په چمبو (فريبونو) كښې راشی ده يو د «معاذ الله» لفظ ووايه چه «په الله پورې پناه نيسم» سم له لاسه گرد (تول) شيطانی جالونه اود كړی گرد (تول) ولونه وپرانستلی شول، ځكه هر چا چه د الله تعالىٰ پناه ونيوله په هغه د بل هيچا وار نه چليږی.

﴿ قَالَ مَعَاذَ اللَّهِ ﴾ الآية ـ وويل يوسف چه پناه نيسم په الله پورې الخ) يعنی له پاک الله څخه پناه غواړم زه داسی قبيح حركت كله كولی شم. علاوه پر دی عزيز زما داسی مربی دی چه ما په ډير عزت، پت، راحت او هوسائی (آرام) كښې ساتی نو ښه زه د خپل محسن پر ناموس باندی ځرنگه لاس واچوم؟ داسی محسن هيروونكی او بې انصافی كوونكی له سره د نيكی او ښيگنې (فائدی) او برى مخ نشی ليدلی. او ځرنگه چه د مجازی مربی دومره قدر او لحاظ كاوه شی، نو وپوهيږه چه له هغه حقيقی مربی څخه په څه اندازه مونږ ته لازم دی چه وشرميږو. او ترى حياء

وکړو. چه هغه رب العالمين دی او محض پخپل فضل او کرم سره ئی زمونږ تربيت فرمايلی دی، او خپل نور مخلوقات ئی زمونږ د خدمت او راحت دپاره درولی دی.

**تنبيه:** ځينو مفسرينو د «انه ربی» ضمير د الله په لوری راجع کړی دی.

وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهِۦ وَهَمَّ بِهَا لَوْلَآ أَن رَّءَا بُرْهَٰنَ رَبِّهِۦ ۚ كَذَٰلِكَ لِنَصْرِفَ عَنْهُ ٱلسُّوٓءَ وَٱلْفَحْشَآءَ ۚ إِنَّهُۥ مِنْ عِبَادِنَا ٱلْمُخْلَصِينَ ﴿۲۴﴾

او خامخا په تحقيق قصد کړی ؤ دغه (يوسف) ته (د جماع) او (يوسف) به قصد کړی وی دی ښځی ته که نه وی ليدلی يوسف برهان (قاطع دليل) د رب خپل، هم داسی (ساتلی دی مونږ يوسف په عصمت سره) دپاره د دی چه وګرځوو مونږ له ده څنی بد او ناکاره فعل (چه خيانت او زنا ده)، بيشکه دغه (يوسف) له بندګانو مخلصو (غورو پاکو) زمونږ څخه ؤ.

**تفسير:** ځينو مفسرينو د ﴿وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهِۦ﴾ الآية - داسی ترجمه کړی ده او خامخا په تحقيق ښځی فکر کړی ؤ د يوسف او يوسف فکر کړی ؤ د ښځی يعنی زليخا د يوسف عليه السلام د راګيرولو فکر وکړ، او يوسف عليه السلام داسی فکر وکړ چه زه د ښځی د مکر په لومه (دام) کښی ونه نښلم. که يوسف عليه السلام د خپل رب حجت او قدرت نه وی معاينه کړی، نو استقامت او ثابت قدمی به ئی مشکله وه. ځينو مفسرينو «وهم بها» ئی له «ولقد همت به» څخه بيل کړی دی. او له «لولا ان رآبرهان ربه» سره ئی متعلق کړی دی لکه چه په «ان كادت لتبدی به لولا ان ربطنا علیٰ قلبها» ترکيب کښی دی. په دغه وقت مقصود د يوسف عليه السلام په حق کښی د «هم» ثابتول نه، بلکه نفی کول دی، او ترجمه به ئی داسی کيږی. چه ښځی د يوسف عليه السلام اراده وکړله، او يوسف عليه السلام به هم د ښځی اراده کړی وی. که د خپل رب قدرت او حجت ئی نه وی ليدلی. ځينی په «هم بها» کښی د «هم» لفظ ئی د رغبت او طبعی ميلان په معنی اخيستی دی. يعنی د يوسف عليه السلام په زړه کښی بی اختياره څه رغبت او ميلان پيدا شو. لکه چه روژه‌دار ته په ګرمی کښی د يخو اوبو په لوری طبعاً رغبت پيدا کيږی. ليکن دی نه د هغو د څښلو اراده کوی او نه دغسی بی اختياری رغبت چندانی مضر دی. بلکه سره له طبيعی رغبت له هغه څخه قطعاً احتراز د مزيد اجر او ډير ثواب موجب ګرځی، هم داسی وپوهيږه چه د داسی قوی اسبابو او دواعيو په موجوديت سم له بشری طبعی سره بی‌اختياره او بی‌ارادی د يوسف عليه السلام په زړه کښی د کوم قسم رغبت او ميلان احساس پيدا کيدل نه له عصمته سره منافی ده او نه ئی مرتبه ښکته کوی. بلکه په «صحيح مسلم شريف» کښی د ابوهريره رضی الله تعالیٰ عنه حديث دی «که د بنده ميلان د کومی بدی په لوری وی

خو پر هغه عمل ونه کړی نو د ده د حسناتو په دفتر کښې یوه نیکی لیکله کیږی» الله تعالیٰ فرمایی چه هغه سره له رغبته او میلانه زما له ویرې هغه بدی ته لاس ونه غځاوه. په هر حال سره له لفظی اشتراکه د زلیخا «هم» د یوسف علیه السلام له «هم» سره لکه د ځمکی او آسمان فرق لری. نو ځکه لوی قرآن دغه دواړه «هم» ئی په یوه لفظ کښې سره جمع نه کړل، او نه د زلیخا د «هم» په شان د یوسف علیه السلام پر «هم» ئی «لام» او «قد» داخل کړل. بلکه په سیاق او لحاق کښې ئی ډیر دلائل د یوسف علیه السلام پر طهارت او نزاهت قائم کړل. چه له غور کوونکو څخه پټ نه دی. تفصیلات ئی په «روح المعانی» او زمونږ د امام فخرالدین رازی په «تفسیر کبیر» او نورو تفاسیرو کښې شته.

«برهان» دلیل او حجت ته وائی. یعنی که یوسف علیه السلام په دغه وقت کښې د خپل رب دلیل نه وی لیدلی، نو پر قلبی میلان به ئی تګ کاوه. ښه! نو دلیل څه ؤ؟ د زنا هغه عین‌الیقین حرمت او شناعت ؤ چه الله تعالیٰ ورښوولی ؤ یا هغه دلیل دی چه یوسف علیه السلام د بی‌بی زلیخا په مقابل کښې وویل چه ﴿ إِنَّهُ رَبِّيٓ أَحۡسَنَ مَثۡوَايَۖ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴾ ځینی وائی چه په دغه وقت کښې د الله تعالیٰ په قدرت خپل پلار ئی ولید چه ولاړ دی، او له حیرته خپلی ګوتی چیچی، یا پر کوم غیبی لیک ئی نظر ولوید چه په هغه کښې د دغه فعل شناعت مرقوم او دی ترې ممنوع شوی ؤ، والله اعلم اما اصح دا دی چه هغه برهان یواځی د الله تعالیٰ جل وعلیٰ شانه عصمت ؤ، د دغه «برهان» ښوول او داسی ئی ثابت قدم ساتل د دی دپاره ؤ چه یوسف علیه السلام زمونږ له غورو بندګانو څخه ؤ، یا ئی جبرئیل ولید. یا غږ پری وشو، چه خبردار! ته نبی الله ئی!. لهٰذا هیڅ یوه وړوکی او لویه بدی، اګر که د ارادی په درجه هم وی ور ونه رسید.

کله چه یوسف علیه السلام د زلیخا نه په تیښته شو نو هری بندی دروازی ته چه به رسیده نو په حکم د الله تعالیٰ سره به ورته پخپله بیرته کیده او زلیخا هم داسی وریسی ځغاسته تر اوومی دروازی پوری

وَٱسۡتَبَقَا ٱلۡبَابَ وَقَدَّتۡ قَمِيصَهُۥ مِن دُبُرٖ وَأَلۡفَيَا سَيِّدَهَا لَدَا ٱلۡبَابِۚ قَالَتۡ مَا جَزَآءُ مَنۡ أَرَادَ بِأَهۡلِكَ سُوٓءًا إِلَّآ أَن يُسۡجَنَ أَوۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٢٥﴾

او سره منډی وهلی دواړو دروازی ته او څیری کړ (ښځی) کمیس د دغه (یوسف) د شا له طرفه او مخامخ شول دوی دواړه میره (خاوند) د زلیخا (عزیز) سره دروازی څخه، وویل (زلیخا عزیز ته) چه نه ده جزاء د هغه چا چه اراده ئی کړی ده په اهل ستا د بدی مګر دا چه بندی کړ شي یا عذاب دردناک دی.

**تفسیر:** وړاندې یوسف علیه السلام ؤ چه ژر ور وړانیځی او د باندې لاړ شی او وروسته زلیخا د ده په تعاقب کښې وه اتفاقاً د یوسف علیه السلام د کمیس وروستنی برخه د زلیخا په لاس کښې ولویده، نو تینګ ئی ونیو، او خپل لوری ته ئی راکش کړ. په دغه کش او کوک (راښکلو) کښې کمیس وشلید مګر یوسف علیه السلام په هر ډول (طریقه) چه ؤ له کوټی څخه د باندې ووت. نو له یوې خوا دوی دواړه سره وړاندې او وروسته په دروازه کښې ورسیدل او له بلې خوا د زلیخا میړه (خاوند) د مصر عزیز هم راورسید. نو ژر تر ژره زلیخا په خبرو جوړولو خپله خوله وړانستله. زلیخا الزام پر یوسف واړاوه چه ده له ماسره د بدې اراده کړې وه، نو د داسې سړی سزا ښائی دا وی چه په بندی خانه کښې وغورځاوه شی یا بل کوم سخت هیداد (سزا) ورته وټاکلی (مقرر) شی.

قَالَ هِيَ رَاوَدَتْنِي عَنْ نَّفْسِي وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْ أَهْلِهَا
إِنْ كَانَ قَمِيصُهُ قُدَّ مِنْ قُبُلٍ فَصَدَقَتْ وَهُوَ مِنَ الْكَاذِبِينَ ﴿٢٦﴾
وَإِنْ كَانَ قَمِيصُهُ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ فَكَذَبَتْ وَهُوَ مِنَ
الصَّادِقِينَ ﴿٢٧﴾ فَلَمَّا رَأَىٰ قَمِيصَهُ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ قَالَ إِنَّهُ مِنْ
كَيْدِكُنَّ ۖ إِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيمٌ ﴿٢٨﴾ يُوسُفُ أَعْرِضْ عَنْ هَٰذَا ۚ
وَاسْتَغْفِرِي لِذَنْبِكِ ۖ إِنَّكِ كُنْتِ مِنَ الْخَاطِئِينَ ﴿٢٩﴾

وویل (یوسف) چه هم دې طلب (او فریب) کړی دی له ما سره دپاره د نفس زما (مراد خپل او شاهدی ورکړه (یوه تی رودونکی) شاهد له کورنی د زلیخا څخه (داسې چه ای عزیزه وګوره) که ؤ کمیس د یوسف څیری کړی شوی د مخې له خوا نو رښتیا وائی زلیخا او دغه (یوسف) له دروغجنانو څخه دی. او که ؤ کمیس د دغه (یوسف) څیری کړی شوی د شا له لوری نو دروغ وائی زلیخا او یوسف له رښتیا ویونکو څخه دی. نو کله چه ولید (عزیز) کمیس د یوسف چه څیری شوی دی د شا له لوری نو وویل (عزیز) چه بیشکه دغه (یو فریب دی) له فریبونو ستاسو ښځو څخه، بیشکه فریب د تاسو ښځو ډیر لوی دی. ای یوسف! واوړه له دې کاره (او پټ د زلیخا وساته، او بیا ئی زلیخا ته وویل) او مغفرت وغواړه ګناه خپلې ته بیشکه چه

ته ئې (اى زليخا !) له خطاكارانو.

**تفسير:** اوس نو يوسف عليه السلام ناچاره شو چه اصلي خبره ورښكاره كړي چه زليخا اراده كړې وه چه زما نفس زما له واكه (اختياره) وباسي، زه وتښتيدم او ځان مې ترې وژغوره (بچ كړو). دغه جګړه لا پاى (آخر) ته نه وه رسيدلې چه د زليخا له كورنۍ څخه يو شاهد په عجيبي طريقې سره د يوسف عليه السلام په حق كښې شاهدي وركړه له ځينو روايتونو ځنې معلوميږي چه دغه شاهد يو تى رودونكى هلک ؤ چه د الله تعالىٰ په قدرت د حضرت يوسف عليه السلام د برائت او وجاهت عندالله ښكارولو دپاره په غږيدلو پيل (شروع) وكړ. او ځينې علماء وايي چه هلک نه ؤ بلكه كوم پوه سړى ؤ چه داسې يوه پته او نښه ئې ور وښوده والله اعلم كه شاهد تى رودونكى هلک ؤ لكه چه په ځينو معتبرو روايتونو كښې دي نو په دغه صورت كښې هم دغه د يوه تى رودونكي وينا او داسې شاهدي وركول چه په خاتمه كښې د يوسف عليه السلام په حق كښې مفيد شي بالاستقلال د يوسف عليه السلام د صداقت دليل ؤ. د كميس له وړاندي يا له وروسته څيريدلو له شهادته په زائد ډول (طريقه) د يوى علامې او قرينې په شان ښائي وګڼلى شي او كه كوم پوه سړى ؤ نو په ښكاره سره داسې معلوميږي چه دى به په خارجي طريقې سره د حال په حقيقت مطلع شوى وى. مګر ده په نهايت پوه په داسې يو اصول سره شاهدي اداء كړه. چه هغه د بې طرفانو په نزد هم ډيره معقوله وه ځكه كه سم د ښځې له دعوى سره «معاذ الله» يوسف عليه السلام د دې په لورى اقدام كړى وى، نو د ده مخ به د ښځې په لورى وه، نو ښكاره ده چه په دغه كش كوک (معارضه) كښې د يوسف عليه السلام كميس به هم د مخې له لورى څيرى شوى ؤ او كه د يوسف عليه السلام وينا صحيحه ده چه ښځې زه خپل لورى ته بللم او زه د دروازې په لورى وتښتيدم او دې زما د نيولو په مقصد زما تعاقب وكړ، نو ښكاره خبره ده چه د ده كميس به د شا له لورى څيرى شوى وى. ځكه چه په دغه صورت كښې يوسف عليه السلام د دې په لورى له سره متوجه نه ؤ بلكه هغې ته ئې خپله شا ګرځولى په تيښته ؤ په هر حال كله چه وليد شو چه كميس د مخې له لورى نه بلكه د شا له لورى څيرى كړى شوى ؤ نو عزيز وپوهيد چه دغه ګرد (تول) د ښځې مكر او فريب دى. يوسف عليه السلام هيڅ قصور نه لرى لكه چه ښكاره ئې وويل چه د زليخا دغه ډک له فريبه چاره له هغه قسمه ده چه عموماً ښځې ئې كوى. نو عزيز له يوسف عليه السلام څخه استدعاء وكړه چه څه تير شوى دى، هغه هير كړه! او وروسته له دې نه د دې خبرى ذكر مه كوه! چه د سختې رسوائي او بدنامي موجب دى. او زليخا ته ئې وويل چه له يوسف عليه السلام څخه يا له خدايه د خپل قصور معافي وغواړه! چه باليقين هم دا ستا قصور دى.

اګر كه عزيز ډير تاكيد كړى ؤ په يوسف باندې د پټولو د دې خبرى، اما داسې خبرى كله پټې پاتې كيږي نو دا خبره د مصرى ښځو په خولو كښې پريوته. او د زليخا د بدنامي آوازه لاړه او خوره شوه لكه چه وائي

وَقَالَ نِسْوَةٌ فِي الْمَدِينَةِ امْرَاَتُ الْعَزِيزِ تُرَاوِدُ فَتٰهَا عَنْ نَّفْسِهٖ ۚ قَدْ شَغَفَهَا حُبًّا ۭ اِنَّا لَنَرٰىهَا فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۳۰﴾

او وویل یو شو ښځو (له خواصو د باچا) په ښار (د مصر) کښې چه ښځه د عزیز طلب کوی مریبی خپل له نفس د ده (مراد خپل)، په تحقیق ثیری کړی ده پرده د زړه د دی ښځی له جهته د محبت (د یوسف یعنی ننوتلی دی محبت د یوسف په غلاف د زړه د زلیخا کښې)، بیشکه مونږ خامخا وینو زلیخا په گمراهی ښکاره کښې (چه خپل میړه (خاوند) لری او مریبی پسی گرځی).

**تفسیر:** یعنی ورو ورو د تول ښار په ښځو کښې داسی ویناوی شروع شوی چه د عزیز ښځه پر خپل ځلمی کنعانی غلام مفتونه او مینه شوی ده، او غواړی چه وئی لمسوی او پر خپل ځان ئی وغولوی او د هغه نفس د ده له واکه (اختیاره) وباسی، د دی مرئی مینی د هغی د زړه په منځ کښې ځای نیولی دی. حال دا چه د داسی یوه معزز منصبدار ښځی ته دغسی یو حرکت ډیره د شرم خبره ده چه دا پر خپل مریبی مینه شی او تری خپل نفسانی مقصد وغواړی. زمونږ په فکر په دغی معاملی کښې زلیخا په علانیه غلطی او ښکاره ناپوهی کښې ده.

فَلَمَّا سَمِعَتْ بِمَكْرِهِنَّ اَرْسَلَتْ اِلَيْهِنَّ وَاَعْتَدَتْ لَهُنَّ مُتَّكَاً وَّاٰتَتْ كُلَّ وَاحِدَةٍ مِّنْهُنَّ سِكِّيْنًا وَّقَالَتِ اخْرُجْ عَلَيْهِنَّ ۚ فَلَمَّا رَاَيْنَهٗٓ اَكْبَرْنَهٗ وَقَطَّعْنَ اَيْدِيَهُنَّ ۫ وَقُلْنَ حَاشَ لِلّٰهِ مَا هٰذَا بَشَرًا ۭ اِنْ هٰذَآ اِلَّا مَلَكٌ كَرِيْمٌ ﴿۳۱﴾

نو کله چه واورید (زلیخا غیبت) مکر (فریب) د دوی، نو ولیږه (زلیخا یو څوک) دغو (طعنگرو ښځو) ته او تیار ئی کړ دغو ښځو ته مجلس (یا میلمستیا یا بالښتونه چه ډډی پری واچوی) او ور ئی کړی هری یوی ښځی ته له دغو (ښځو) نه چړوکۍ او وویل (زلیخا یوسف ته) راووځه په دوی (نو راووت) نو کله چه ولید دوی دغه (یوسف) نو ډیر لوی ښائسته ئی وموند (هک پک پاتی او ځانونه تری هیر شول) او غوځ ئی کړل لاسونه خپل او وویل دوی پاکی ده الله ته (له عجز او نقصانه چه داسی صورت ئی هم جوړ

کړی دی) نه دی دغه (ځلمی) انسان، نه دی دغه (ځلمی) مګر پرښته ده لویه.

**تفسیر:** د ښځو دغو ویناؤ ته ځکه مکر فریب وائی چه د مکارانو په شان به یی پټی پټی خبری کولی، او پر زلیخا به ئی بد ویل، ګواکی دوی به د خپلی پاکی او عفت اظهار کاوه. حال دا چه یوسف علیه السلام د بی مثال حسن او جمال شهرت چه د هری ښځی غوږونو ته رسیده، نو هغوی به د ده په لیدلو پسی کریدی او ترپیدی او پری ویلیدی هیڅ بعید او لری نه دی چه پر زلیخا د طعنو او تنقید کوونکو اصلی د زړه مقصد هم دا وی، چه زلیخا په قهر کړی، او داسی یوه حرکت ته ئی تیاره کړی چه د یوسف علیه السلام د ملاقات او لیدلو سبب وګرځی، یا د زلیخا په زړه کښی د هغه نفرت واچوی، او هغوی د خپل ځانونو په لوری د هغه د مائل کیدلو موقع راپیدا کړی. او دا هم ممکن دی چه زلیخا په دغی معاملی کښی له ځینو ښځو سره د زړه خبری کړی وی، او هغوی د دی د دغو پټو او د زړه د خبرو د ساتلو په ځای هغه برسیره کړی وی، او په تنقید او پیغور ویلو به ئی لاس پوری کړی وی. په هر حال د دوی د دغو خبرو او اترو شخه په لفظ د «مکر» سره په تعبیر کولو کښی دغه ټول احتمالات موجود دی.

﴿ اَرۡسَلَتۡ اِلَيۡهِنَّ ﴾ الآیة ـ نو ولیږه زلیخا یو څوک دغو طعنګرو ښځو ته) یعنی ښځو ته ئی بلنه وکړه او میلمستیا ته ئی راوغوښتی، او یو مجلس ئی ترتیب کړ. چه د هغه د مأکولاتو او خوړو په منځ کښی ځینی خواږه داسی هم ؤ چه په چړوکیو سره ګریدل. یا پوتکی به ئی تری لری کیدل. لکه چه د خوړو ګردی (تولی) میوی او نوری د دوی په مخ کښی واوښتلی شوی او په ښه ترتیب سره کیښودی شوی، او د هری یوی ښځی په لاس کښی یوه یوه چړوکۍ ورکړه شوه څو د تراشولو وړ (لائق) شیانو په خوراک کښی د بلی ښځی د انتظار له کلفته بی غمه وی کله چه دغه ګرد (ټول) شیان ئی جوړ او پوره ترتیبات ئی ونیول. حضرت یوسف ته چه هم هغلته چیری نژدی موجود ؤ غږ وکړ چه دلته راشه په مجرد د راتلو د هغه پر ګردو (ټولو) میلمنو ښځو باندی د بریښنا په شان یو تاثیر او حرکت پیدا شو او ښځی د یوسف د حسن او جمال له دغی یو ناڅاپی ننداری څخه بیخی بی‌هوشی او بی‌حواسی شولی، او د بیهوشی په حال کښی د میوو په ځای ئی خپل لاسونه پری کړل. ګواکی قدرت یو مستقل دلیل د یوسف علیه السلام پر نزاهت او صداقت ودراوه، چه د هغه ځلمی د بی مثله جمال د لږ پلوشی په اثر د غولیدونکو ښځو خپل حواس ورک کړل. حال دا چه یوسف بیخی هغوی ته خپلی سترګی هم ونه غړولی او د دغو ښځو پیمخی او سینګار ته ئی له سره ونه کتل، او له سره ئی لږ څه التفات هم ورته ونه کړ نو ګرد (ټول) سره وپوهیدل بالیقین اصلی واقعه به هم داسی وی چه زلیخا د دی سد (هوش) وړونکی جمال د ننداری څخه خپل عقل، فکر، سد (هوش) او حواس او نور له لاسه ایستلی وی او یوسف علیه السلام د معصومی پرښتی په شان د خپل عفت امن ساتلی، پاک او صاف تری وتلی دی.

﴿ وَقُلۡنَ حَاشَ لِلّٰهِ مَا هٰذَا بَشَرًا ﴾ الآیة ـ او وویل دغو ښځو پاکی ده الله ته له صفاتو د عجز او

نقصانه چه داسې صورت ئې هم جوړ کړی دی نه دی دغه ځلمی انسان، نه دی دغه ځلمی مګر پرښته ده لويه) يعنی د حسن او جمال او نورانی صورت په اعتبار لکه پرښته معلومېږی يو چا ډېر ښه ويلی دی:

قوم اذا قوبلوا کانوا ملائکة

حسناوان قوتلوا کانوا عفاريتا

ښېتانه دی پرښتې په محل د عيش عشرت کښې

توريالیان دی لکه ځمريان په ډګر د جنګ غيرت کښې

يا هغه حياء او عفت چه د ده له څيری او وضعيت او هيئت څخه راڅرګنديده، او د هغه د ليدلو څخه ئې داسې وويل چه دغه بنی آدم نه دی بلکه د کومې معصومې پرښتې په شان راښکاری. (بيا چه زليخا دا ښځې وليدې چه له ډېر حيرته ځان او جهان ترې ورک شوی دی)

قَالَتْ فَذٰلِكُنَّ الَّذِیْ لُمْتُنَّنِیْ فِیْهِ ؕ وَلَقَدْ رَاوَدْتُّهٗ عَنْ نَّفْسِهٖ فَاسْتَعْصَمَ ؕ وَلَئِنْ لَّمْ یَفْعَلْ مَاۤ اٰمُرُهٗ لَیُسْجَنَنَّ وَلَیَكُوْنًا مِّنَ الصّٰغِرِیْنَ ﴿۳۲﴾

نو وويل (زليخا دغو ښځو ته) دا همغه ځلمی دی چه ملامته کړی ومه تاسو زه په (محبت د) ده کښې، او خامخا په تحقيق طلب کړی ؤ ما له ده له نفسه د ده (مدعا خپله) نو ځان ئې وساته (او زما مطلب ئې ونه کړ)، او قسم دی خامخا که ونه کړی هغه څه چه امر کوم زه ده ته (او وايم زه) نو خامخا به بندی (قيد) کړی شي هرومرو (لازماً) او خامخا شي به دی له ذليلانو (بی عزتانو په دی بندی خانه کښې)

**تفسير:** اوس زليخا موقع وموندله چه د ښځو د هغو طعنو او تشنيعو غشی بيرته پر هم دوی ورغوځار کړی ګواکی په دغه وقت کښې ﴿ فَذٰلِكُنَّ الَّذِیْ لُمْتُنَّنِیْ فِیْهِ ﴾ په ويلو سره د يوسف صفت وکړو د دی تولنی د رنګ او وضعيت له ليدلو څخنی زليخا بيخی ځان له لاسه ورکړ او د هغی پيښې ګرد (تول) واقعات ئې په ښکاره ډول (طريقه) سره تکی په تکی وويل «چه بيشکه ما غوښت چه د دی کنعانی ځلمی زړه په لاس راوړم مګر دغه د پاک الله بنده په داسې ډول (طريقه) سره خپل ځان له ما څخنی وژغوره (وساته) او لاس ئې له ما څخنی وويڼځه چه زه ورته حقه حيرانه يمه، او د هغه د عفت او طهارت او قوت بيان تاسی ته له سره نشم کولی» ګواکی الله تعالیٰ د ګرد (تول) ښار د خواصو ښځو په تولنه کښې د حضرت يوسف عليه السلام د عصمت او عفت کمال او د نزاهت او طهارت ثبوت ئې ور وړاندی کړ د زليخا حال په دغه وقت کښې همغسی ؤ لکه چه چا ويلی دی.

**لا تخف ما صنعت بک الاشواق واشرح هواک فکلنا عشاق**

﴿وَلَئِن لَّمْ يَفْعَلْ﴾ الآية - او قسم دی خامخا که ونه کړی هغه څه چه ورته وایم زه نو خامخا به بندی کړ شی هرومرو (لازماً) او خامخا به شی له ذلیلانو په دی بندی خانه کښی) د زلیخا مقصود په دغو خبرو او اترو کښی لږ څه نورو ښځو ته د خپلی معذوری او نامرادی، اظهار ؤ څو د هغوی زړه‌خوږی او همدردی حاصله کړی شی. او لږ څه په تحکمی ډول (طریقه) په ویرولو سره د یوسف علیه السلام مرعوبیت ؤ چه هغه وویریږی او وروسته له دی نه د زلیخا په مراد او مطلب کار وکړی. او تری سر ونه غړوی. او ځان دی ورته سنبال کړی حال دا چه

نه کیږی عنقا ښکار، ونغاړه ژر لومه دی

پرته به وی په خاورو کښی باد نیسی تل لومه دی

کله چه دغو ښځو یوسف علیه السلام ته وویل چه امر ومنه د مولاګۍ خپلی که نه بندی (قیدی) کیږی او ربړونه (تکلیفونه) به تیروی

قَالَ رَبِّ السِّجْنُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدْعُونَنِي إِلَيْهِ ۖ وَإِلَّا تَصْرِفْ عَنِّي كَيْدَهُنَّ أَصْبُ إِلَيْهِنَّ وَأَكُن مِّنَ الْجَاهِلِينَ ﴿٣٣﴾

نو وویل (یوسف) ای ربه زما بندی خانه ډیره خوښه ده زما له هغه کاره چه بولی دا ښځی ما هغه کار ته، (ای الله وګرځوی مکر، فریب د دوی له مانه) او که ونه ګرځوی ته له ما څخنی مکر فریب د دی ښځو نو میلان به وکړم زه دوی ته او بیا به وګرځم (په سبب د دغه میلان) له جاهلانو.

**تفسیر:** معلومیږی چه د زلیخا دغه د مایوسی غصی، او د مظلومیت ډکی وینا د دی پر نورو هم جنسانو او سیالانو خپل پوره اثر وغورځوه یا لا له پخوا د دوی په منځ کښی سره څه خبری او اتری به هم شوی وی. په هر حال لیکلی دی چه په دغه وقت کښی ګردو (تولو) ښځو د یوسف علیه السلام په پوهولو باندی داسی ژبی وپرانستلی «چه تاته لازم دی چه د خپلی دغی محسنی او سیدی میرمنی خبره ومنی! آخر ته ولی پر دغی غریبی باندی ظلم او تیری کوی! او ښائی چه دغی خبری ته هم ښه فکر وکړی چه د دغو غاړه غړولو او خبرو نه منلو نتیجه به تاته خامخا ربړونه (تکلیفونه) او مصیبتونه در وړاندی کړی او بل هیڅ یوه ګټه (فائده) درته نه رسوی» وایی چه په ښکاره ډول (طریقه) دوی به هری یوی د زلیخا سپارش کاوه مګر په حقیقت کښی دوی هری یوی غوښته چه د یوسف علیه السلام زړه خپل لوری ته راکش کړی کله چه یوسف علیه السلام ولید چه دغو ښځو په ډیر بد صورت راپسی شوی دی او ګردی (تولی) راپسی لویدلی دی او شیطان په هر لوری ماته سختی لومی غوړولی دی په ډیر عزم او استقامت او د نبوت په استقلال

او ارادى ئى د احديت له درباره غوښتنه او دعاء كوله چه «يا اله العٰلمينه! ما د دوى له مكرونو او فريبونو څخنى وژغوره (وساته)! كه په دغى سلسلى كښى ماته بندى كيدل راپيښيږى، نو زه په ډيرى خوشالى سره هغى بنديگرى ته د معصيت پر ارتكاب ترجيح وركوم كه ته زما لاس ونه نيسى، نو ويريږم چه زه به بى عقله شمه او د دوى دغو لمسولو ته به څه تمائل وكرم» دلته د يوسف عليه السلام دغه وينا دا راڅرگندوى چه د انبياؤ عليهم السلام عصمت هم د پاک الله په اعانت او لاس نيونى سره كيږى او دوى پر خپل عصمت نه مغروريږى، بلكه د عصمت او عفت پر هغى منشأ «چه د پاک الله حفاظت او صيانت دى» دوى تل نظر اچوى.

فَاسْتَجَابَ لَهُ رَبُّهُ فَصَرَفَ عَنْهُ كَيْدَهُنَّ ۚ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٣٤﴾

نو قبوله كره ده ته رب د ده (دا دعا) نو وئى گرځاوه له ده څخه فريب د دوى، بيشكه الله هم دى ښه آوريدونكى (د تولو اقوالو) ښه عالم دى (په گردو (تولو) افعالو).

**تفسير:** يعنى دى ئى په عصمت او عفت په پوره دول (طريقه) سره ثابت قدم او مستقيم كړ، او د هيچا مكر او فريب پرى ونه چليد، او هيڅ اثر ئى پرى ونه كړ.
(بيشكه الله تعالىٰ ښه آوريدونكى د تولو اقوالو ښه عالم دى په گردو (تولو) افعالو) يعنى د گردو (تولو) دعاوى ښى آورى، او ترى ښه خبردار او پوه دى. حضرت شاه صاحب ليكى «ظاهراً معلوميږى چه دى پخپلى غوښتنى او دعاء سره بندى شوى دى ليكن الله تعالىٰ د ده دومره دعا قبوله فرمايلى ده چه د هغوى فريب ئى ترى دفع كرى. نور بندى كيدل د ده په قسمت كښى ؤ. انسان لره ښائى چه د ويرى په وقت كښى د خپل ځان دپاره بدى ونه غواړى. او پوره د نيكى سؤال دى كوى. اگر كه كيږى خو همغه چه په قسمت كښى ليكلى شوى دى». په ترمذى شريف كښى راغلى دى چه له يوه سرى څخه رسول الله صلى الله عليه وسلم دغه دعاء واوريده **اللهم انى اسالک الصبر** اى الله زه له تانه صبر غواړم رسول الله مبارک وفرمايل «**سالت الله البلاء فاساله العافية** تا له الله تعالىٰ څخنى د بلاء طلب وكړ. ځكه چه صبر خو پر بلاء كيږى، نو ترى عافيت وغواړه!»

ثُمَّ بَدَا لَهُم مِّن بَعْدِ مَا رَأَوُا الْآيَاتِ لَيَسْجُنُنَّهُ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿٣٥﴾

نو بيا ښكاره شو دوى ته (يعنى عزيز او تابعانو د عزيز ته) وروسته له هغه چه وليدل دوى دلائل (د پاكئ د يوسف) چه خامخا په بندى خانه كښى به واچوى هرومرو (خامخا) دى تر يو وقت پورى (چه قطع شى خبرى د خلقو

پس بندی کړ شو یوسف)

**تفسیر:** یعنی سره له دی چه د حضرت یوسف علیه السلام د برائت او نزاهت دیر دلائل ئی لیدلی ؤ بیا هم دوی په دغه کښی مصلحت ولید چه تر یوی مودی پوری یوسف علیه السلام بندی کړی، څو عام وګړی او خلق داسی وګنی چه هم دغه یوسف پړ ؤ، او همغه کمبخته ښځه بی سببه بدنامه شوه ګواکی هغه تخویف او ویرول چه د زلیخا له لوری په بندیتوب سره ورکړی شوی ؤ په سر ورسوله شوه. له دغی بندیګری څخه به د دغو خلقو غرض داسی وی چه په دی سره به له ښځی څخه دغه بدنامی ورکیږی او هم تر یوی مودی پوری به یوسف د دوی له سترګو څخنی پټیږی. او د ښځی اصلی مقصد به له دی بندیتوبه داسی وی چه ګوندی یوسف علیه السلام د لږ څه ربړ (تکلیف) ګاللو (زغملو) په اثر لږ څه مات او نرم شی. او زه په دی دول (طریقه) سره کولی شم چه خپل مقصد تری حاصل کړم او د عزیز او د نورو مقصد به له دغه بندیتوبه داسی وی چه په هغه سره دغه محبت ورک یا کم شی.

وَدَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ فَتَيٰنِ ۗ قَالَ اَحَدُهُمَآ اِنِّيْٓ اَرٰىنِيْٓ اَعْصِرُ خَمْرًا ۚ وَقَالَ الْاٰخَرُ اِنِّيْٓ اَرٰىنِيْٓ اَحْمِلُ فَوْقَ رَاْسِيْ خُبْزًا تَاْكُلُ الطَّيْرُ مِنْهُ ۗ نَبِّئْنَا بِتَاْوِيْلِهٖ ۚ اِنَّا نَرٰىكَ مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٣٦﴾

او ننوتل له ده سره په زندان کښی دوه ځلمیان، وویل یو له دی دواړو بیشکه زه وینم ځان خپل (په خوب کښی) حال دا چه نچوړوم انګور دپاره د شرابو، او وویل هغه بل چه بیشکه زه وینم ځان خپل (په خوب کښی) حال دا چه بار کړی می ده د پاسه په سر خپل دوډی چه خوری مرغان له هغی (دوډی)، خبر کړه ته مونږ په تعبیر د دی (هر یوه خوب)، بیشکه مونږ وینو تا له نیکو کارانو (له بندیانو سره یا د بندیخانی یا له ښو علماؤ د تعبیر څخه).

**تفسیر:** یعنی په هم دغو ورځو کښی دوه ځلمی بندیان هم په بندی خانه کښی واچول شول. چه له دوی څخنی یو د مصر د باچا (ریان بن الولید) دوډی پخوونکی او بل ئی ساقی ؤ او دواړه په دغه الزام چه باچا ته د زهر ورکولو اراده ئی درلودله (لرله) بندیان شوی ؤ. په بندی خانه کښی د حضرت یوسف علیه السلام د مروت، امانت، رښتیا ویل، ښه اخلاق، زیات عبادت کول، ښه معرفت، ښه تعبیر، له خلق الله سره زړه سوی او نورو محاسنو شهرت او آوازه وه. دغه دواړه بندیان هم له حضرت یوسف علیه السلام سره دیر مأنوس (روږدی) شول او د دیر محبت او اخلاق

اظهار به ئی ورته کاوه یوه ورځ دغو دواړو خپل خوبونه ور اظهار کړل ساقي وویل چه ما خوب لیدلی چه باچا ته شراب ورکوم نانوائی وویل چه زه ګورم ځما په سر لوی پتنوس ایښی (چه پکښی خواږه دی) او له هغه څخه مرغان پخپلو مښوکو سره تونګی وهی او تری خوری ئی.
یوسف علیه السلام ئی لوی سړی لیدلی د دغو خوبونو تعبیر ئی تری وغوښت.

قَالَ لَا يَأْتِيكُمَا طَعَامٌ تُرْزَقَانِهِۦٓ إِلَّا نَبَّأْتُكُمَا بِتَأْوِيلِهِۦ قَبْلَ أَن يَأْتِيَكُمَا ۚ ذَٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِى رَبِّىٓ ۚ إِنِّى تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَهُم بِٱلْءَاخِرَةِ هُمْ كَٰفِرُونَ ﴿٣٧﴾

وویل (یوسف) چه لا نه به وی راغلی تاسی ته طعام چه روزی درکوله شی تاسی ته هغه (طعام) مګر چه خبر به کړم تاسی په تعبیر د دی خوب پخوا له راتلو (د دی طعام) تاسی ته، دا تعبیر (چه کوم ئی تاسی ته) له هغه علم نه دی چه ښوولی دی ماته رب زما، بیشکه ما پریښی می دی دین د هغو خلقو چه ایمان نه راوړی پر الله او حال دا چه دوی په آخرت هم دوی کافران کیدونکی دی.

**تفسیر:** یوسف علیه السلام ړومبی هغوی ته تسلی ورکړه چه هرومرو (خامخا) د دغو خوبونو تعبیر تاسی ته ډیر ژر معلومیدونکی دی، او له دغو هرو ورځو خوړو څخه د مخه چه تاسی ته درکول کیږی هغه به زه دروښیم. لیکن د خوب د تعبیر کولو څخه د مخه یوه ډیره ضروری او مفیده خبره در آوروم او هغه دا ده چه دغه د تعبیر علم او نور ماته له کومه ځایه حاصل شوی دی؟ نو په یاد ئی ولرئ چه زه کوم کسب ګر کاهن یا منجم نه یم بلکه زما د علم سرچینه ربانی وحیه او الهام دی چه ماته پاک الله دغه علم او کمال ځکه راښوولی دی چه ما د همیشه دپاره د کافرانو او باطل پرستانو دین او ملت پری ایښی دی او د خپلو مقدسو پلرونو او نیکونو د حضرت ابراهیم، حضرت اسحٰق، حضرت یعقوب غوندی انبیاؤ او مرسلانو د توحید پر دین ځم. او د هغوی لاره می ځان ته غوره کړی ده. زمونږ له ګردو (تولو) خبرو څخه لویه او مقدسه د نظر مطمح هم دغه خبره ده چه د دنیا هیڅ یو څیز په هیڅ یوه درجه له پاک الله سره شریک ونه ګرځوو نه په ذات کښی نه په صفاتو کښی نه په افعالو کښی نه په ربوبیت او معبودیت کښی. یواځی د هغه په حضور کښی سر ښکته کوو. او له هغه سره محبت لرو او پر هغه باندی توکل او اعتماد کوو. او خپل مرګ او ژوندون او نور تول همغه پاک الله ته ورسپارو، په هر حال یوسف علیه السلام مناسبه موقع لیدلی په نهایت مؤثر ډول (طریقه) سره دغو بندیانو ته د ایمان

او توحيد په جانب ترغيب او تشويق ورکړ د انبياؤ هم دغه کار او عادت وی چه د دعوت او د حق د تبليغ هيڅ يوه مناسبه موقع له لاسه نه ورکوی. يوسف عليه السلام وليد چه د دغو قيديانو زړونه زما په لوری متوجه دی او هم له ماسره مانوس شوی دی، او د بنديگری (قيدئی) په مصيبت کښی گرفتار دی. ښائی چه لږ پاسته او نرم شوی به هم وی. راشه! په دغه وقت کښی ته دی د تبليغ الحق او د دعوت د فرائضو په ادا کولو سره فائده تری واخله! ړومبی دوی ته دينی خبری وروښيه بيا ئی د خوب تعبير وروايه! دغه تسلی ئی خو ورته لا له پخوا څخه ورکړی وه چه د دوی تر وقت پوری تعبير به درمعلوميږی څو دوی د پند او نصيحت له اوريدلو څخه ځانونه ونه باسی، او ښه غوږونه ورته کيږدی.

**تنبيه:** ديرو مفسرينو د ﴿ لَا يَأْتِيكُمَا طَعَامٌ تُرْزَقَانِهِ ﴾ معنی داسی اخيستی ده چه لا نه به وی راغلی تاسی دواړو ته طعام مگر چه خبر به کړم زه تاسی په احوال د هغه طعام چه کوم قسم طعام دی او رنگ او خوند به ئی څرنگه وی، نو دغه تعبير کول ماته څه اشکال لری. گواکی ړومبی حضرت يوسف عليه السلام د معجزی په لوری د دوی توجه ورکش کړه، او دوی ئی پخپل نبوت باندی مطمئن او داده کړل. څو راتلونکی نصيحت ئی زيات مؤثر او ښه اوقع‌فی‌النفس شی. په دی تقدير سره د يوسف عليه السلام دغه معجزه به داسی وی لکه چه حضرت مسيح عليه السلام فرمايلی ؤ ﴿ وَأُنَبِّئُكُمْ بِمَا تَأْكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ فِي بُيُوتِكُمْ ﴾ شيخ الهند رحمة الله عليه پخوانی تفسير اختيار کړی دی. والله اعلم. حضرت شاه عبدالقادر صاحب ليکی «حق تعالیٰ په قيد کښی دغه حکمت ايښی دی چه د دوی زړونه د کافرانو له محبته تش شی يعنی هغه کافران چه له دوی سره ئی محبت او مدارات کاوه. او د الله تعالیٰ په علم سره روښان شی يوسف عليه السلام وغوښت چه ړومبی هغوی ته دينی خبری وښيی او وروسته د خوبونو تعبير ورښکاره کړی. نو ځکه ئی تسلی ورکړه چه مضطرب او پريشان نشی او وی ويل چه د دوی تر وقته پوری به هغه هم درو‌ښيم.»

---

وَاتَّبَعْتُ مِلَّةَ آبَاءِيٓ إِبْرٰهِيمَ وَإِسْحٰقَ وَيَعْقُوبَ ۚ مَا كَانَ لَنَآ أَنْ نُّشْرِكَ بِاللهِ مِنْ شَيْءٍ ۚ ذٰلِكَ مِنْ فَضْلِ اللهِ عَلَيْنَا وَعَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ ﴿٣٨﴾

---

او متابعت کړی دی ما د دين د پلرونو خپلو چه ابراهيم او اسحٰق او يعقوب دی، نه ښائيږی مونږ ته چه شريک ونيسو په الله پوری، هيڅ شی په هيڅ څيز کښی، دا (توحيد) له فضل د الله دی پر مونږ باندی او پر نورو خلقو وليکن زيات له خلقو شکر نه وباسی (په دی راتلو د انبياؤ).

**تفسير:** يعني زموږ خالص توحيد او په ابراهيمي ملت باندی زموږ قايم پاتی کيدل نه يوائی زموږ په حق کښی بلکه د ګرد (تول) جهان په حق کښی فضل او رحمت دی ځکه چه د ابراهيمي کورني له انوارو څخه روحانی ګردی (تولی) رڼاوی خوری او نورانی ډيوی لګيدلی شی. ليکن افسوس دی چه ډير کسان د الله تعالیٰ د دغه لوی نعمت قدر نه کوی. لازم خو داسی ؤ چه د پاک الله احسان ئی منلی وی، او د توحيد په سمه او صافه لاره تللی وی، او بالعکس د کفران او شرک او عصيان لاره ئی نه وی غوره کړی. حال دا چه دوی بالعکس د ناشکرئ، شرک او عصيان لاری خپل ځانونو ته غوره کوی.

يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ ءَاَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُوْنَ خَيْرٌ اَمِ اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿٣٩﴾

ای دواړو ملګرو زما د زندان آيا خدايان متفرق (تار په تار) غوره دی که (هغه الله (غوره دی چه) يو دی؟ (بی له شريک په الوهيت کښی) ډير قوی غالب دی (پر تولو او په هر څيز کښی).

**تفسير:** يعني ای د مختلفو انواعو او اشکالو وړوکيو او لويو بتانو او له باطلو معبودانو سره چه د الوهيت اختيارات پری تقسيم کړی دی سره له دی چه هغوی هيڅ اختيار په هيڅ شی کښی نه لری مينه او محبت لرل او له هغوی سره اخلاص او عقيدت پالل ښه دی؟ که له هغه زبردست الله سره چه پر ګردو (تولو) مخلوقاتو ئی پوره اختيار، او کامل تصرف او قبضه حاصله ده، او د ده په مخ کښی نه د چا حکم چليدی شی او نه څه واک او اختيار لری، او نه څوک تری چيری تښتيدی شی، او نه ورسره د مقابلی توان لری چه مغلوب او پر ئی کړی. نو تاسی پخپله فکر او چرت (خيال) ووهئ چه په دغو کښی کوم يو د عبوديت وړ (لائق)؟ او د سر ورته ښکته کولو لائق دی؟

مَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖۤ اِلَّاۤ اَسْمَآءً سَمَّيْتُمُوْهَاۤ اَنْتُمْ وَ
اٰبَآؤُكُمْ مَّاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ
اَمَرَ اَلَّا تَعْبُدُوْۤا اِلَّاۤ اِيَّاهُ ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٤٠﴾

عبادت نه کوئ تاسی غير له الله مګر د څو نومونو چه نومونه مو ايښی دی د هغو تاسی او پلرونو ستاسی نه دی نازل کړی (راليږلی) الله په (عبادت د)

هغوی کوم برهان حجت سند، نه دی حکومت (د هیچا) مګر خاص د الله دی، امر ئی کړی دی په دی چه عبادت مه کوئ تاسی مګر د هم ده، دا (عبادت د ده) دین دی سم (او حق دی ښکاره) ولیکن زیات د خلقو نه پوهیږی (په لاره حقه).

**تفسیر:** یعنی خوشی چتی (بیکاره) بی سنده او بی ځایه له خپل ځانه څه نومونه مو ایښی دی چه تر هغو لاندی د یوی ذری په اندازه هم څه حقیقت نشته او تاسی د هم دغو تشو نومونو عبادت کوئ او تش ئی په نامه سره خدای بولئ! په داسی جهل او نادانی ښائی چه سری وشرمیږی یعنی له قدیمه راهسی د انبیاؤ علیهم السلام په ژبو دغه حکم مو لیږلی دی چه د پاک الله په عبادت کښی بل هیڅوک مه شریکوئ! ﴿ وَسْـَٔلْ مَنْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رُّسُلِنَآ اَجَعَلْنَا مِنْ دُوْنِ الرَّحْمٰنِ اٰلِهَةً يُّعْبَدُوْنَ ﴾ (۲۵ جزء د الزخرف (٤٥) آیت (٤) رکوع) یعنی د خالص توحید په لیاره کښی هیڅ یوه لوړه ژوره (نشیب و فراز) نشته سم صاف سړک دی، چه پر هغه باندی د تللو په وسیله انسان بی له ویری په اطمینان تر الله تعالیٰ پوری رسیږی. لیکن ډیر کسان له حماقته یا تعصبه پر داسی سمی خبری هم نه پوهیږی.

﴿ يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ اَمَّآ اَحَدُكُمَا فَيَسْقِيْ رَبَّهٗ خَمْرًا ۚ وَاَمَّا الْاٰخَرُ فَيُصْلَبُ فَتَاْكُلُ الطَّيْرُ مِنْ رَّاْسِهٖ ؕ قُضِيَ الْاَمْرُ الَّذِيْ فِيْهِ تَسْتَفْتِيٰنِ ﴾ ۴۱

ای دواړو ملګرو زما د بندی خانی! هر څه یو له تاسی دواړو (چه د باچا ساقی دی) نو وبه څښوی مالک بادار خپل ته شراب (لکه د پخوا پشان) او هر څه دا بل (د باچا خباز) نو په دار به شی نو خوری به مرغان (غوښی) له سره د ده، فیصله شوی دی کار هغه چه په هغه کښی فتوی او تعبیر غوښت تاسی له ما څخه.

**تفسیر:** د تبلیغ د فرض له اداء کولو څخه وروسته یوسف علیه السلام د دوی د خوبونو تعبیر وفرمایه. هغه چه په خوب کښی باچا ته شراب ورڅښولی دی د هغه تعبیر هم دا دی چه دی به په ویښتیا کښی هم بیا خپل باچا ته شراب ورڅښوی او هغه بل چه په خوب کښی ئی لیدلی دی چه د پاسه د ده له سره مرغان ډوډی خوری، د هغه مطلب دا دی چه پر دار باندی خیژولی کیږی، او ځناوران د ده د سر پوستکی هم شکوی او خوری به ئی د قضا او قدر فیصله هم دغه ده چه هغه له سره بیرته ګرځیدونکی نه ده. د هغی خبری پوښتنه چه تاسی کوله، هغه می وروښوله دغه بالکل یوه قطعی او یقینی او پری کړی شوی خبره ده چه پکښی له سره تخلف نشی

کیدی. لکه چه هم داسی هم وشو او ساقی د زهرو ورځېنولو له تهمته بیخی پاک او بریء ووت او نانوائی (دودی پخونکی) د خپل جرم په سزا غرغره، او په دار ځوړند شو.

وَقَالَ لِلَّذِي ظَنَّ أَنَّهُ نَاجٍ مِّنْهُمَا اذْكُرْنِي عِندَ رَبِّكَ فَأَنسَاهُ الشَّيْطَانُ ذِكْرَ رَبِّهِ فَلَبِثَ فِي السِّجْنِ بِضْعَ سِنِينَ ﴿٤٢﴾

او وویل یوسف هغه یوه ته چه یقین ئی درلود (لرلو) چه بیشکه دی خلاصیدونکی دی له دی دواړو نه (چه ساقی دی) چه یاد کړه (مظلومیت زما) په نزد د مالک بادار خپل (چه خوشی می کړی له بنده) نو هیر کړ تری شیطان یادول د یوسف هغه بادار خپل ته نو پاتی شو یوسف په بندی خانه کښی څو کاله (یعنی اوه کاله).

**تفسیر:** دلته ظن د یقین په معنی دی لکه چه په ﴿ الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَاقُوا رَبِّهِمْ ﴾ کښی دی یعنی یوسف علیه السلام د دغو دواړو په منځ کښی د هغه په نسبت چه متقین ؤ چه بریء کیدونکی دی کله چه له بندی خانی څخه ووت وویل چه د باچا په مخ کښی زما یادونه هم وکړه چه داسی یو بی قصوره سړی د کلونو کلونو راهسی په بندی خانی کښی پروت دی. د مبالغی هیڅ ضرورت نه دی زما کوم حال او احوال چه تا پخپلو سترګو لیدلی دی کټمټ (هوبهو) همغه ووایه!.

﴿ فَأَنسَاهُ الشَّيْطَانُ ﴾ الآیة - نو هیر کړل تری شیطان یادول د یوسف بادار (آقا) خپل ته الخ) یعنی شیطان د دغه خلاص شوی بندی په زړه کښی مختلفی وسوسی او خیالات وغورځول، او داسی ئی غافل کړ چه د خپل دغه لوی محسن «یوسف علیه السلام» تذکره ئی تر کلونو کلونو پوری ونه کړه او له سره ئی په یاد هم پاتی نشو. او بالنتیجه یوسف علیه السلام څو کاله نور هم په بندی خانه کښی پاتی شو له ډیرو مدتونو څخه وروسته کله چه باچا یو خوب ولید چه د هغه په تعبیر باندی هیڅوک ونه پوهیدل نو دلته د دغه سړی (ساقی) یوسف په یاد شو. لکه چه وروسته راځی ﴿ وَقَالَ الَّذِي نَجَا مِنْهُمَا وَادَّكَرَ بَعْدَ أُمَّةٍ ﴾ الآیة - د هیرولو نسبت د شیطان په لوری ځکه وکړ شو چه د وساوسو او د نورو د القاء ذریعه ده چه د نسیان سبب ګرځی. د حضرت موسیٰ علیه السلام د سفر ملګری هم ویلی ؤ ﴿ وَمَا أَنسَانِيهُ إِلَّا الشَّيْطَانُ أَنْ أَذْكُرَهُ ﴾ (۱۵ جزء د الکهف (٦٣) آیت ۹ رکوع) لیکن په هر شر کښی الله تعالیٰ کومه د خیر خوا هرومرو (خامخا) پړدی. دلته هم اګر که د نسیان نتیجه د بندیګری د تطویل په صورت راخرګنده شوه خو بیا هم د حضرت شاه صاحب د نکتی له پیدا کولو سره سم داسی یو تنبیه ورته وشوه چه یو نبی لره نه ښائی چه تش پر ظاهری اسبابو او وسائلو زړه وتړی بلکه ابن جریر او بغوی او

نورو له ځينو اسلافو څخه نقل کړی دی چه هغوی د ﴿فَأَنسَاهُ الشَّيْطَانُ ذِكْرَ رَبِّهِ﴾ ضمير د يوسف عليه السلام په لوری راجع کوی. ګواکی ﴿اذْكُرْنِي عِندَ رَبِّكَ﴾ ويل يو راز (قسم) غفلت ؤ چه يوسف عليه السلام ته عارض شوی ؤ يوسف عليه السلام هغه بندی ته وويل چه خپل بادار (آقا) ته زما ذکر وکړه! حال دا چه پر ده لازم ؤ چه ګرد (تول) ظاهری اسباب او وسائل ئی پريښی او پخپله د پاک الله په دربار کښی به ئی خپل عرض او غوښتنه کوله. بيشکه د شدائدو د کشف په وقت کښی له خلقو ځنی د ظاهری استعانت او اسبابو مباشرت مطلقاً نه دی حرام ليکن د ابرارو حسنات مقربينو ته سيئات ګرځی. هغه خبری چه عوام الناس ئی بی له انديښنی کولی شی د انبياؤ عليهم السلام د عالی منصب په اعتبار، همغه خبره په يوه ډول (طريقه) تقصير اوړی. د امتحان او ابتلاء په مواقعو کښی د انبياؤ رفيع شان د هم دی خبری مقتضی دی چه پر رخصت دی نظر ونه کړی او د عزيمت پر انتهائی لاره دی درومی څرنګه چه د حضرت يوسف عليه السلام ﴿اذْكُرْنِي عِندَ رَبِّكَ﴾ ويل د عزيمت خلاف ؤ، نو ځکه عتاب اميزه تنبيه ورته وشوه، چه تر څو نورو کلونو به هم په بندی خانه تفصيل په «روح المعانی» کښی دی، له «بضع» څخه د ډيرو پوهانو په نزد دلته اوه کاله مقصد دی. او د «بضع» د لفظ اطلاق له دريؤ څخه نيولی تر نهو پوری کيږی. په حديث کښی دی چه «مهربان دی شی الله پر وررور زما يوسف عليه السلام باندی که ئی نه وی ويلی چه «زمايادونه وکړه خپل بادار (آقا) ته» نو نه به ؤ پاتی شوی په بندی خانه کښی اوه کاله.

---

وَقَالَ الْمَلِكُ إِنِّي أَرَىٰ سَبْعَ بَقَرَاتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَسَبْعَ سُنبُلَاتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ يَابِسَاتٍ ۖ يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ أَفْتُونِي فِي رُؤْيَايَ إِن كُنتُمْ لِلرُّؤْيَا تَعْبُرُونَ ﴿٤٣﴾

---

او وويل باچا (ريان ورروسته له اوو کلونو) بيشکه ما وليدلی په خوب کښی اوه غواوی څربی (چه له وچی وياله ووتلی) چه خوری دا څربی اوو نورو خوارو غواوو او (بيا می وليدل) اوه وږی شنه او نور اووه می وليدل وچ (چه پر دغو شنو لمدو ورتاو شول)، ای ډلی د درباريانو! فتوی (تعبير) راکړئ تاسی تول ماته په دی خوب زما کښی که يئ تاسی چه د خوب تعبير کولی شئ.

---

**تفسير:** يعنی ومی ليده چه هغه وچ وږی له هغو شنو وږو څخه چاپير شول او هغه ئی هم وچ کړل، دغه خوب د مصر تولواک او باچا ريان بن وليد ليدلی ؤ چه بالاخر د حضرت يوسف عليه

السلام د خلاصی او ظاهری عروج سبب شو د یوسف علیه السلام په قصه کښې ئې ځای په ځای داسې تنبیه هم فرمایلې ده چه د کومې خبرې د پرې کیدلو چه د پاک الله اراده تللې وی، نو په غیر متوقعې طریقې سره د هغه داسې اسباب او وسائل ورتولوی چه د هغه په لوری له سره د انسان فکر او خیال هم نه وی تللی.

﴿ إِن كُنتُمْ لِلرُّءْيَا تَعْبُرُونَ ﴾ که یئ تاسې چه د خوب تعبیر کولی شئ!) یعنی که په دغه فن کښې څه پوهه او مهارت لرئ. نو ځما د دغه خوب تعبیر وکړئ! او مطلب ئې راوښیئ!

قَالُوٓا۟ أَضْغَٰثُ أَحْلَٰمٍ ۖ وَمَا نَحْنُ بِتَأْوِيلِ ٱلْأَحْلَٰمِ بِعَٰلِمِينَ ﴿٤٤﴾

نو وویل (دغو درباریانو) دا ګډوډ (تخیلی) خوبونه دی، او نه یو مونږ په تعبیرونو د خوشې خیالی خوبونو باندی پوهیدونکی

**تفسیر:** معلومیږی چه هغه خلق له دی فن څخه جاهلان ؤ، نو ځکه د خپلې ناپوهی په اقرار کښې وشرمیدل. او داسې یوه خبره ئې جوړه کړه چه دا له سره خوب نه بلکه خوشې چټی (بیکاره) او پریشان خیالات دی. چه ډیر کله انسان ته د خوب په حالت کښې داسې ګډوډ خیالات او چرتونه ورپیښیږی چه له سره د دقت او اعتناء وړ (قابل) او لائق نه دی. او نه مونږ د داسې خوبونو په تعبیر کښې څه علم لرو، ځکه چه دغه د علم التعبیر تر اصولو لاندی نه راځی. (کله چه باچا په دی خوب خپل کښې ډیر فکرجن شو او ساقی د تولواک (باچا) له دغې اندیښنې څخه متحسس شو نو یوسف علیه السلام ئې وربه یاد شو.).

وَقَالَ ٱلَّذِى نَجَا مِنْهُمَا وَٱدَّكَرَ بَعْدَ أُمَّةٍ أَنَا۠ أُنَبِّئُكُم بِتَأْوِيلِهِۦ فَأَرْسِلُونِ ﴿٤٥﴾

او وویل هغه سړی چه خلاص شوی ؤ له هغو دواړو (یعنی ساقی) او په یاد ئې شو (یوسف) پس له ډیری مودی چه زه به خبر کړم تاسې په تعبیر د دی خوب نو ولیږئ تاسې ما (یوسف زندانی ته).

**تفسیر:** اوس د خوب په سلسله کښې د هغه ساقی چه له بندیګری، څخه خوشې شوی ؤ حضرت یوسف علیه السلام په یاد کښې راغی ده تولواک (باچا) او نورو واکوالانو (وزراؤ) او اهل دربار ته ئې وویل که ماته لږ څه تر بندی خانی پوری د تللو اجازه راکړه شی، نو زه به ډیر ژر د دی خوب ډیر صحیح تعبیر تاسې ته راوړم. په بندی خانه کښې یو مقدس پرښته صورت بزرګ

شته چه په علم‌التعبير كښې ډير ماهر دى ممكن دى چه ده به د خپل خوب قصه هم هغوى ته كړى وى زه د دغه تعبير دپاره د ده بابركت خدمت ته حاضريږم وروسته له دى نه چه ورته اجازه وركړه شوه نو د تولواک (باچا) ساقى د يوسف عليه السلام په خدمت كښې مشرف شو او داسى عرض او غوښتنه ئې ورخخه وكړه.

يُوسُفُ أَيُّهَا الصِّدِّيقُ أَفْتِنَا فِي سَبْعِ بَقَرَاتٍ
سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَسَبْعِ سُنْبُلَاتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ
يَابِسَاتٍ لَعَلِّي أَرْجِعُ إِلَى النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٤٦﴾

اى يوسفه! اى ډيره رښتينه! حكم راكړه مونږ ته په اووو غواو څربو كښې چه وخورى دى څربو لره اووه (نورى) خوارى غواوى او په اووو وږيو شنو كښې او اوو نورو وچو وږيو كښې (چه له هغو شنو چاپير دى) ښائى چه زه بيرته لاړ شم (سره له تعبيره) خلقو ته (چه باچا او درباريان ئې دى) دپاره د دى چه دوى پوه شى (په تعبير د خوب د باچا او قدر ستا).

تفسير: د ﴿أَيُّهَا الصِّدِّيقُ﴾ له ويلو څخه دغه غرض ؤ چه تاسى مجسم رښتيا يئ! هره هغه خبره چه ستا له ژبى څخه وځى، هغه هرومرو (خامخا) كيږى. هيله (اميد) شته چه هر هغه تعبير چه تاسى د دى خوب وكړئ هغه به هم كټمټ (هوبهو) همغسى كيږى څو زه بيرته لاړ شم سره له تعبيره خلقو ته دپاره د دى چه دوى پوه شى د دغه خوب په ډير ښه تعبير او د هغه په ذريعه ستاسى قدر او منزلت هم معلوم شى. دغه لفظ راښكاروى چه د انبياؤ عليهم السلام د صدق او ديانت نقش په څه ډول (طريقه) سره د خاصو او عامو په زړونو كښې وهلى كيږى.

قَالَ تَزْرَعُونَ سَبْعَ سِنِينَ دَأَبًا فَمَا حَصَدْتُمْ فَذَرُوهُ فِي سُنْبُلِهِ إِلَّا قَلِيلًا
مِمَّا تَأْكُلُونَ ﴿٤٧﴾ ثُمَّ يَأْتِي مِنْ بَعْدِ ذَٰلِكَ سَبْعٌ شِدَادٌ يَأْكُلْنَ مَا
قَدَّمْتُمْ لَهُنَّ إِلَّا قَلِيلًا مِمَّا تُحْصِنُونَ ﴿٤٨﴾ ثُمَّ يَأْتِي مِنْ بَعْدِ ذَٰلِكَ
عَامٌ فِيهِ يُغَاثُ النَّاسُ وَفِيهِ يَعْصِرُونَ ﴿٤٩﴾

وويل (يوسف) چه کرئ به تاسي (هر قسم فصل) اووه کاله پرله پسي په ډير زيار (کوشش) سره ډير، نو هر هغه چه وريبل تاسي نو پريږدئ هغه غله په وږى خپل کښې مګر لږ شاني له هغه چه تاسي ئې خورئ (نو همغومره قدر ترې پاک کړئ). بيا به راشي وروسته له دغو (اووه کلونو ودانو) اووه نور (کلونه) سخت چه وبه خوري (اهل د دى اوو سختو کلونو) هغه غلې چه پخوا ذخيره کړى وى تاسي دپاره د دى مګر لږ شاني له هغه چه تاسي ساتئ (ئې تخم ته). بيا به راشي وروسته له دى (کلونو د قحط) يو کال (چه پنځلسم به وى) چه په هغه کښې به فرياد رسي وکړه شي د خلقو (په غلو او بارانونو) او په دى کښې به ونښيځى (نچوړ کړى) خلق (ميوى او غوړى داني).

---

**تفسير:** يوسف عليه السلام د خوب د تعبير په ورښوولو کښې نه څه ځنډ (ايسارتيا) ولګوه او نه ئې کوم شرط ورته کيښود او نه ئې هغه سرى شرمنده کړ. چه ته مى وروسته له دغومره کلونو اوس ولى خبر اخلى! له دى نه د انبياؤ عليهم السلام د اخلاقو او مروتو اندازه له ورا معلوميږى. بيا هغه يوازځى د خوب تعبير غوښتى وو. مګر ده درى شيان ورعطاء کړل تعبير، تدبير، تبشير د يوسف عليه السلام د کلام حاصل داسي دى چه اووه غټى ځربى غواوى او اووه شنه وږى هغه اووه کلونه دى چه په کښې پرله پسي متواتر خوښى او هوسائى (آرام) به وى د ځمکو حاصلات به ډير کيږى، حيوانات او نباتات به ډيره ترقي او وده کوى. وروسته له دى نه به اووه کلونه قحط راځى چه په هغه کښې هغه ګردى (تولى) پخوانى ذخيرى خوړلى کيږى او بيخى به ئې په پاى (آخر) رسوى. يوازځى د راتلونکى کال د تخم شيندلو (نوستلو) دپاره به لږ څه پاتى کيږى دغه اووه کاله همغه خوارى غواوى او وچ وږى دى چه ځربى غواوى او شنه وږى به خورى او ختم کوى ئې. د تعبير ښوولو په ضمن کښې يوسف عليه السلام د شفقت او زړه سوى او رحم علىٰ خلق الله لامله (له وجى) د يوه تدبير تلقين هم وفرمايه چه په ړومبنيو اوو کلونو کښې هغه ښه او ډير حاصلات چه په لاس ورځى ښائى چه په ډير حفاظت سره ئې وساتئ او په کفايت شعارى سره ئې ذخيره وکړئ هومره غله مو چه د خوړلو او کرلو لپاره په کاريږى هغه بيله کړئ او لږ لږ ئې په ډير احتياط سره خورئ او نورى غلې همغسى په خپلو وږيو کښې پرېږدئ چه له چنجيانو او نورو مضره ؤ حشراتو څخه به ښه شان سره وساتلى شى او د اوو کلونو حاصلات د څوارلسو کلونو په کار ورشي که داسي ونه کړئ نو له قحط او غم سره به مو مقابله ډيره ګرانه وى. د دغه تعبير او تدبير ښوولو څخه وروسته ئې هغوى ته يو بشارت هم واوروه چه غالباً به ورته د وحى په وسيله معلومه شوى وى. يعنى وروسته له اووو کلونو قحطى څخه کوم کال چه راځى. په هغه کښې به د الله تعالىٰ له خوا ستاسي فرياد رسي کيږى. او ښه پريمانه بارانونه به اورى. کښتونه، (فصلونه)

غلی، دانی، میوی او نور محصولات به په ډیر افراط سره پیدا کیږی. د ساکښانو (ذی روحو) غلانځی به له شودو ډکی وی. له انګورو (کورو) خرما او نورو نښیځونکو (نچوړونکو) شیانو څخه به خلق شراب جوړوی دغه وروستنی خبره ئی د سائل له حاله سره موافقه وکړه. ځکه د ده کار هم دغه ؤ.

وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُونِي بِهِ ۖ فَلَمَّا جَاءَهُ الرَّسُولُ قَالَ ارْجِعْ إِلَىٰ رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ مَا بَالُ النِّسْوَةِ اللَّاتِي قَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ ۚ إِنَّ رَبِّي بِكَيْدِهِنَّ عَلِيمٌ ﴿٥٠﴾

او وویل باچا راولئ تاسی ماته دغه (یوسف)، نو کله چه راغی دغه (یوسف ته) استاځی (د باچا) ووویل یوسف چه بیرته لاړ شه! مالک بادار (آقا) خپل ته نو پوښتنه وکړه ته له ده چه څه حال ؤ د ښځو هغو چه غوڅ کړی ئی ؤ لاسونه خپل، بیشکه چه رب زما په کیدونو (مکرونو) د دوی ښه خبردار دی.

**تفسیر:** باچا پخوا له دی نه د خپل ساقی د تذکری په اثر د حضرت یوسف علیه السلام معتقد شوی ؤ. اوس چه داسی موزون او په زړه پوری تعبیر او د رعایاؤ خواخوږی او زړه سوی او ښه تدبیر ئی واورید، نو د یوسف د علم، فضل، عقل، پوه، ښه اخلاق سخت اثر د باچا په زړه ولوید او علی‌الفور ئی امر صادر کړ چه «داسی پوه سړی دی ژر تر ژره زما حضور ته راحاضر کړ شی چه زه ئی زیارت وکړم، او تری مستفید شم او سم د ده د مرتبی او قابلیته سره ئی عزت وکړم» قاصد سم له لاسه دغه شاهی پیغام د حضرت یوسف علیه السلام په خدمت کښی ورساوه مګر د یوسف علیه السلام په نظر کښی د ده د دینی او اخلاقی وضعیت برتری او صفائی له ډیر اعلاالاعلی دنیوی عزت او وجاهت څخه هم ډیر لوړ (اوچت) او مهم وو دی ښه وپوهیده چه د نبی الله په نسبت د خلقو ډیره لږه بدګمانی هم د هدایت او ارشاد په کارونو کښی ډیر زیات اشکال او سخت ضرر پیښولی شی. که زه د باچاهی فرمان په اثر په پته خوله له بندی خانی څخه ووځم. او د هغه تهمت په سلسله چه زه له کلونو کلونو راهسی د قید او بندی ګری ذلت تیروم د هغه په قطعی ډول (طریقه) سره استیصال ونشی، نو ډیر امکان لری چه ډیر ناواقفه خلق به زما د عصمت په نسبت څه تردد او شبهه ولری. او حاسدان به څه مهال (وخت) وروسته له هم دغو بی‌اصلو اثراتو څخه بیا څه استفاده وکړی، بیا به کومه حیله (بهانه) او پلمه (تدبیر) راته جوړه کړی. نو د دغو مصالحو لامله (له وجی) یوسف علیه السلام د باچاهی حکم په امتثال کښی چالاکی ونه کړه. بلکه د نهایت صبر او استقلال مظاهره ئی وکړه، او قاصد ته ئی ووویل چه ته

دی خپل بادار (آقا) ته لاړ شه او تری پوښتنه وکړه چه «آیا تاسی ته د هغو ښځو څه حقیقت معلوم شوی دی چه د میلمستیا په موقع کښی ئی خپل لاسونه پری کړی ؤ» حضرت یوسف علیه السلام ته د هغو ښځو نومونه او پیژندګلو به له کومه معلوم وی او داسی خیال به ئی کړی وی چه دغسی مهمی (خاص) واقعی به هرومرو (خامخا) خپل عمومی شهرت حاصل کړی وی، نو ځکه د هغی واقعی یو ممتاز جزء د لاسونو پری کول ئی ظاهر کړه. او باچا ته ئی توجه ورکړه چه د دغی مشهوری او معروفی قصی تفتیش او تحقیق وکړی غالباً اوس به هغه ښځی تاسی ته دغه خبره درڅرګنده کړی چه تقصیر د چا دی؟ د صحیحینو شریفینو په حدیث کښی نبی کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم د صدیق یوسف ستاینه (صفت) په دغو الفاظو سره فرمایلی «**لو لبثت فی السجن ما لبث یوسف لاجبت الداعی** که زه دومره مدت بندی پاتی کیدم چه یوسف علیه السلام بندی پاتی و، نو د بلونکی اجابت به می کړی وه یعنی فوراً به ورسره تلم» محققین وائی چه په دی کښی د حضرت یوسف علیه السلام د صبر او تحمل تعریف، او په لطیف رنګ سره د ده د کامل عبودیت اظهار د رب‌العزت په دربار کښی دی. مولٰینا شبیر احمد عم فیضه د دی مضمون تفصیل د صحیح مسلم شریف په شرحه کښی لیکلی دی. دلته د اختصار په لحاظ له دی نه څه زیات نشو لیکلی.

حضرت یوسف علیه السلام «بکیدهن د دوی مکرونه» وفرمایل ځکه چه فریب خو ؤ د یوی مکر نوری له دی سره مؤیدانی او مرستیانی (ملګری) وی او د اصلی مکر کوونکی نوم ئی ښائی د پالنی او روزنی لامله (له وجی) نه وی یاد کړی. او د حیاء په وجه سره به ئی پټ فرمایلی وی ځکه چه دی پوهیده چه اصلی حقیقت به پخپله څرګندیږی. کذا فی الموضح.

لنده ئی دا چه ساقی راغی او باچا ئی له ګردی (تولی) ماجرا څخه پوره خبردار کړ نو باچا هغه ښځی سره له زلیخا راحاضری کړی او

---

قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ إِذْ رَاوَدتُّنَّ يُوسُفَ عَن نَّفْسِهِۦ ۚ قُلْنَ حَاشَ لِلَّهِ مَا عَلِمْنَا عَلَيْهِ مِن سُوٓءٍ ۚ قَالَتِ ٱمْرَأَتُ ٱلْعَزِيزِ ٱلْـَٔـٰنَ حَصْحَصَ ٱلْحَقُّ أَنَا۠ رَٰوَدتُّهُۥ عَن نَّفْسِهِۦ وَإِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلصَّـٰدِقِينَ ﴿٥١﴾

---

وویل (باچا هغو ښځو ته) چه څه ؤ حال ستاسو کله چه تاسی طلب کړ (او فریب مو ورکاوه) یوسف ته د پاره د تیر ایستلو د (حفاظت د) نفس د ده (نو میلان ئی وکړ تاسی ته؟ که نه)، وویل تولو ښځو پاکی ده الله ته نه یو پوهیدلی مونږ په دغه (یوسف) باندی له هیڅ بدی، وویل ښځی د عزیز (زلیخا) چه اوس ظاهر شو حق (رښتیا خبره) ما طلب کړی ؤ په فریب

دپاره د تیر ایستلو د نفس د ده (چه خپل مراد ترې واخلم) او بیشکه یوسف خامخا له صادقینو (رښتینو) څخه دی.

**تفسیر:** باچا د پوښتنې عنوان داسې غوره کړ چه گواکې دی له دې پیښې نه لا له پخوا څخه خبر دی څو دوی د باچا په مخکښې دروغ ویلو ته ځغرد (کوشش) ونه کړی او هم د حضرت یوسف علیه السلام د صبر، تحمل او استقامت اثر به پرې لویدلی وی چه هغه بې د برائت له اظهاره له بندی خانې څخه وتل نه خوښوی. او په ﴿إِنَّ رَبِّي بِكَيْدِهِنَّ عَلِيمٌ﴾ فرمایلو سره د دوی کید راښکاروی. او له بل لوری ساقی او نورو به اصلی واقعات ده ته آورولی وی. چه له هغو څخه به هم د یوسف علیه السلام نزاهت او د ښځو د مکائدو تائید په لاس ورغلی وی.
د گردو (تولو) ښځو له متفقه شهادت څخه وروسته پخپله زلیخا هم په صاف دول (طریقه) سره اقرار وکړ چه قصور زما دی یوسف بیخی رښتین دی. بیشکه ما د هغه میلان خپل لوری ته غوښت مگر دی کله داسې یو سړی دی چه زما په لمسولو سره تیروځی یا پښه ئې ولغزیږی.
بیا باچا یوسف علیه السلام ته جواب ورولیږه چه ښځې په خپلې گناه قائلې شوی راشه چه ستا په مخکښې دوی ته سزا ورکړم نو یوسف علیه السلام وویل زما غرض له دغه عرض څخه اجراء د تعزیر او سزا نه بلکه اظهار او اعلان د حق او رښتیاوه او

ذَٰلِكَ لِيَعْلَمَ أَنِّي لَمْ أَخُنْهُ بِالْغَيْبِ وَأَنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي كَيْدَ الْخَائِنِينَ ﴿٥٢﴾

دغه (پوښتنه می ځکه وکړه) چه پوه شی (عزیز) چه بیشکه ما خیانت نه دی کړی د ده سره په پسی شا هم او بیشکه چه الله په لاره نه برابروی کید مکر د خیانت کرانو (او په مقصد ئې نه رسوی).

**تفسیر:** یعنی دغومره تحقیق او تفتیش د دې لامله (له وجې) وکړ شو چه د نبوت عصمت او دیانت بالکل ښکاره شی او گرد (تول) خلق سره وپوهیږی چه د خائنانو او دغابازانو فریب ته پاک الله برې نه ورکوی لکه چه د دغو گردو (تولو) ښځو فریب ونه چلیدو او بالاخر حق، حق او پخپل ځای ودرید.
کله چه له دغو خبرو څخه یو قسم تکبر او غرور معلومیده په عمل خپل باندی نو وویل یوسف علیه السلام دپاره د دفعې د دغې چه:

وَمَآ أُبَرِّئُ نَفۡسِيٓۚ إِنَّ ٱلنَّفۡسَ لَأَمَّارَةُۢ بِٱلسُّوٓءِ إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّيٓۚ إِنَّ رَبِّي غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٥٣﴾

او زه نه پاکوم نفس خپل (په دې شان چه نه کوي ميل بدی ته ځکه چه) بيشکه نفس خامخا ډير امر کوونکی دی (هر وقت) په بدی سره مګر هغه (نفس) چه رحم مهربانی پری کړی وی رب زما (چه بيشکه رب زما ښه مغفرت کوونکی (د خطياتو) ډير رحم والا دی (په انعام د اجر او ثواب سره)

**تفسير:** څرنګه چه حضرت يوسف عليه السلام په خپل برائت باندی ډير زور غورځولی ؤ لکه چه پخوا مو وليکل امکان ئی درلود (لرلو) چه کوم سطحی سړی هغه ته په فخر او ناز او غرور او اعجاب سره تشبيه ورکړی نو ځکه يوسف عليه السلام په خپله خپل د نزاهت حقيقت څرګند (ښکاره) کړ، چه زه پر خپل دغه عصمت څه فخر او غرور نه کوم او نه پر خپل طهارت اعتماد کولی شم ـ دا محض د پاک الله رحمت او اعانت دی چه يو نفس له بدی څخه منع کوی هم دغه خصوصی رحمت د انبياؤ عليهم السلام کفيل او ضامن دی که نه د انسانی نفس کار عموماً د بدی پر لوری ترغيب ورکول ؤ ـ که د الله تعالیٰ خصوصی توفيق او لاس نيونه نه وئ، نو زما نفس به هم د نورو بشريه ؤ نفوسو په شان وئ. په ﴿ إِنَّ رَبِّي غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴾ سره ئی اشاره وکړه کله چه «نفس اماره» توبه وکړی «نفس لوامه» ګرځی ـ نو الله د ده ګرد (تول) پخوانی تقصيرات ښښی بلکه ورو ورو پخپلی مهربانی سره يئ د «نفس مطمئنه» تر درجی پوری رسوی.
**تنبيه:** حافظ ابن تيميه رحمة الله عليه او ابن کثير رحمة الله عليه او نور له ﴿ ذَٰلِكَ لِيَعۡلَمَ أَنِّي لَمۡ أَخُنۡهُ ﴾ څخه تر ﴿ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴾ پوری د زليخا مقوله دروی. يعنی زليخا د «انا راودته عن نفسه» اقرار وکړ او وی ويل چه په دغه اقرار او اعتراف سره زه عزيز ته د دغی خبری ورڅرګندول (ښکاره کول) غواړم چه ما د عزيز په غياب او نشتوالی کښی کوم لوی خيانت نه دی کړی بيشکه د يوسف عليه السلام لمسولو ته می اراده کړی وه، مګر زما دغه مراودت پر يوسف عليه السلام باندی هيڅ کوم اثر ونهغورځاوه که ما زيات له دی نه کوم خيانت کړی وی نو هرومرو (خامخا) د هغه پرده به شليده ـ ځکه چه الله تعالیٰ د خائنانو مکر او فريب ته بری او پرمختګ (ترقی) نه ور په برخه کوی هو! زه می خپل نفس نشم پاک ښولی، هومره غلطی چه له ما څخه صادره شوی ده، پر هغی اقرار کوم. د نورو خلقو په شان زه د نفس له شرارتونو څخه پاکه نه يم، له نفسانی بدو کارونو ځنی خو د يوسف عليه السلام په شان يو پاک او معصوم نبی الله محفوظ پاتی کيدی شی، چه پری د پاک الله خاصه مهربانی او ځان ته رحمت وی ابو حيان رحمة الله عليه هم دغه ته د زليخا مقوله وايی ـ ليکن د ﴿ لِيَعۡلَمَ ﴾ او د ﴿ لَمۡ أَخُنۡهُ ﴾ ضمائر د عزيز

په ځای د یوسف علیه السلام په لوری اړوی یعنی زه پخپلی خطا باندی ځکه په صاف ډول (طریقه) سره اقرار کوم څو یوسف علیه السلام ته معلوم شی چه زه د هغه په غیاب کښی کومه غلطه خبره نه کومه ـ او نه خپل جرم بیا هغه ته منسوبوم

وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُونِي بِهِ أَسْتَخْلِصْهُ لِنَفْسِي ۖ فَلَمَّا كَلَّمَهُ قَالَ إِنَّكَ الْيَوْمَ لَدَيْنَا مَكِينٌ أَمِينٌ ﴿٥٤﴾

او وویل باچا چه راولی (تاسی ای مقربینو زما) ماته دغه (یوسف) چه خالص کړم دغه (یوسف) دپاره (د کارونو) د ځان خپل (یعنی زما به مشیر خاص وی) نو کله چه خبری وکړی (باچا) له دغه (یوسف) سره وویل (باچا یوسف ته) چه بیشکه ته نن ورځ په نزد زمونږ خاوند د مرتبی آمانتګر یی.

**تفسیر:** باچا ئی څه لا له پخوا ښخه معتقد شوی ؤ ـ کله ئی چه بالمشافه خبری ورسره وکړی نو بیخی ئی مخلص او معتقد شو، او حکم ئې ورکړ چه له نن ورځی ښخه وروسته تاسی له مونږ سره په ډیر عزت او احترام ډیر معتبر او پتیالی (عزتمند) اوسیږئ ـ حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی چه «اوس ئی د عزیز سره علاقه پری کره ـ او دی ئی خپل مصاحب وګرځاوه.» کله چه یوسف علیه السلام باچا ته وویل چه اوس تاسی ته داسی ښایی چه په دی اووه کلونو کښی غلی جمعه کړئ، بیا چه د قحط کلونه راغلل نو له اطرافو به مخلوق راځی او دا غلی به در ښخه پیری (اخلی) ، نو داسی خزانی به جمعه کړی، چه بل هیڅچا نه وی جمعه کړی. نو باچا یوسف علیه السلام ته وویل دغه سررشته (انتظام) به څوک وکړی؟

قَالَ اجْعَلْنِي عَلَىٰ خَزَائِنِ الْأَرْضِ ۖ إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٌ ﴿٥٥﴾

وویل(یوسف علیه السلام باچا ته) چه مقرر کره ما پر خزانو د ځمکی(د مصر) بیشکه زه ښه ساتونکی (د اموالو) ښه پوه یم (په وجوه د تصرفاتو او جذب د فوائدو، نو باچا یوسف ته د خزائنو کنجی ګانی وروسپارلی او د سلطنت تول اختیارات ئی ورته ورکړل)

**تفسیر:** یعنی د دولت حفاظت هم په پوره ډول (طریقه) سره کولی شم ـ او د هغه د عوائدو او مخارجو له ذرائعو او له حسابه او کتابه هم ښه باخبره او واقف یم. یوسف علیه السلام پخپله خوښه او غوښتنه د نقدی او د جنسی او د حاصلاتو د ځمکی اداری امور په خپل لاس کښی

واخیستل شو په دغه وسیله سره عامةالناس ته پوره ګټه (فائده) ورسولی شي ـ خصوصاً په راتلونکی قحط کښي په ډير ښه انتظام او سلوک سره د مخلوقاتو خبر نیونه وکړی شي ـ او د حکومت مالي وضعیت په ښه ډول (طریقه) سره تینګ او مضبوط وساتلی شي. له دی نه ظاهرېږی چه انبیاء علیهم السلام دنیوی عقل هم پوره لری او دغه هم څرګنده (ښکاره) شوه چه د خلائقو د خدمت لپاره مالیاتی په چارو کښي لاس وهل د نبوت له مقامه یا د عظمت له شان سره مخالفت نه لری. که یو سړی سره له نیک نیتئ داسي وګڼي چه د هغه منصب لپاره زه اهل یم ـ او له نورو څخني به دغه کار په ښه شان سره نه جوړېږی، نو دغه د مسلمانانو د خیر غوښتلو او نفع رسولو له امله (له وجې) که د هغه غوښتنه یا مطالبه وکړی کولی ئی شي، او که حسب الضرورت خپل د ځینو حسنه ؤ خصالو او حمیده ؤ اوصافو بیان او تذکره هم وکړی، نو دغه به په کومی ناجائزی مدحی کښي نه وی شامل او نه به په ممنوعه تزکیه د نفس کښي داخل وی ﴿ وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ﴾ د عبدالرحمٰن بن سمرة رضی الله تعالیٰ عنه له یوه حدیثه معلومېږی «هر څوک چه پخپله د امارت طالب شي، نو د هغه بار د ده پر اوږو باندی اچولی کېږی (او غیبی اعانت ورسره مدد او مرسته (امداد) نه کوی) او دغه په هغه وقت کښي ده چه دغه طلب محض نفس پاللو او د جاه او د لوړوالي د خوښولو او نورو دنیوی اغراضو په بناء وی. والله اعلم.

وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الْأَرْضِ يَتَبَوَّأُ مِنْهَا حَيْثُ يَشَاءُ ۚ نُصِيبُ بِرَحْمَتِنَا مَن نَّشَاءُ ۖ وَلَا نُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ ﴿٥٦﴾

او په مثل د دغه (مذکوره نعمت او احسان) ځای ( قدرت) ورکړ مونږ یوسف ته په ځمکه (د مصر) کښي، چه ځای به ئی نیوه (یعني اوسیده) له دغی ځمکی (د مصر) څخه هر چیرته چه به ئی خوښه شوه، رسوو مونږ رحمت نعمت خپل هر چاته چه اراده وفرمایو مونږ او نه ضائع کوو مونږ اجر (بدل) د محسنانو (نیکو کارانو)

**تفسیر:** یوسف علیه السلام هر چیری چه غوښته ښکته کیده ـ او هر هغه شي ئی چه زړه غوښته په ئی تصرف کاوه ـ ګواکی «ریان بن ولید» په نامه سره باچا ؤ او په حقیقت کښي یوسف علیه السلام باچاهي کوله او د «عزیز» په نامه سره یادیده لکه چه وروسته له دی نه راځی. ځینی علمآء لیکی چه باچا د یوسف علیه السلام په لاس مسلمان شو او هم په دغه زمانه کښي د مصر پخوانی عزیز مړ شو ـ نو د هغی ښځی (زلیخا یا راعیل) نکاح له دوی سره وترله شوه ـ والله اعلم ولی محدثین پر دغه خبره باندی اعتماد نه لری.

وَلَاَجْرُ الْاٰخِرَةِ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴿٥٧﴾

او خامخا اجر (بدل) د آخرت خیر(ډیر غوره) دی ( له دنیوی اجره ) هغه کسانو ته چه ایمان ئی راوړی دی او وو دوی چه پرهیزګاری ئی کوله (له شرک او فواحشو)

**تفسیر:** هر هغه چه د نیکی او ښیګنی (فائدی) لپاره غوره کړی ده الله تعالیٰ هغه ته په دنیا کښی که اراده وفرمائی د هغه خوږه ثمره ورکوی ـ اعم له دی چه ثروت (مالداری) وی یا حکومت ـ عیش وی یا عشرت خوږ ژوندون وی یا لذت ـ قلبی غنا وی یا قناعت. نو حضرت یوسف علیه السلام ته دغه ګرد (تول) شیان ورعنایت فرمایلی شوی ؤ پاتی شول د آخرت اجرونه هغه یو ایماندار او پرهیزګار ته هلته له دنیوی اجرونو څخه خورا (ډیر) بهتر اجرونه ور په برخه کیږی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی
«دغه جواب شو د هغه سؤال چه د ابراهیم علیه السلام اولاده په څه ډول (طریقه) له شام څخه مصر ته راغله او بیان وشو چه ورونو په څه ډول (طریقه) سره حضرت یوسف علیه السلام له کوره لری وغورځوه؟ چه خوار او ذلیل شی او الله تعالیٰ څرنګه ورته عزت وباښه او پر ملک ئی واک او اختیار ورکړ؟ او هم داسی ځمونږ محبوب رسول حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سره هم وشو» کله چه یوسف علیه السلام ته تول کارونه د سلطنت وروسپارلی شو، نو ده خلق په بزګری (زمیدارئ) او په منظم او فنی جمع کولو د غلو سره تر اوو کلونو پوری ماموران کړل نو کله چه فراخی تیره شوه او قحط سالی راغله ـ او چرچه د قحط تر کنعانه پوری هم ورسیده نو ورونو د یوسف علیه السلام له پلاره اجازه وغوښته او بینامین اعیانی ورور د یوسف علیه السلام تری پلار خپل خدمت لپاره ستون (واپس) کړ او دوی لس اوښان دپاره د ځان او یو اوښ دپاره د (بنیامین) سره د څه مبلغ له ځانه سره واخیستل، او مصر ته لاړل لکه چه فرمائی

وَجَآءَ اِخْوَةُ يُوْسُفَ فَدَخَلُوْا عَلَيْهِ فَعَرَفَهُمْ وَهُمْ لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ﴿٥٨﴾

او راغلل ورونه د یوسف (له کنعانه مصر ته) نو راننوتل په دغه (یوسف) باندی پس وپیژندل (یوسف) دوی او دوی دغه (یوسف) لره ناپیژندونکی وو (په سبب د حجاب یا اوږدوالی د زمانی)

**تفسیر:** په «موضح القران» کښی دی کله چه حضرت یوسف د مصر پر مملکت خپلواک او مختار شو، نو سم له همغه خوب سره په اوو وروستیو کلونو کښی ئی ښه ودانی وکړه او د

گردو (تولو) ځمکو غلي او داني ئې راغونډي او ذخيره ئې کړې، بيا د قحط په اوو ورستنيو کلونو کښې يو متوسط نرخ ئې وټاکه (مقرر که) او هغه به ئې پر مصريانو او نورو پرديسيانو برابر پلورلې (خرخولې) مگر پرديسيانو ته ئې سرې په سر له يوه اوښ بار (ختي) څخه زيات نه ورکاوه نو په دغه وسيله سره خلق الله له قحط څخه نجات وموند ـ او د باچاهي خزانه ډکه شوه او په هر لورې کښې دغه انگازه (اوازه) خوره شوه چه غله په مصر کښې ارزانه ده نو ځکه د ده ورونه هم د غلي پيرودلو دپاره مصر ته راغلل د دوی هيئت او قيافه او وضع او قطع کښې دومره تغيير او تبديل نه ؤ شوی دلته يوسف به هم پرله پسې د خپلو ورونو تفقد او پوښتنه او پلټنه (تحقيق) کوله ـ او وروسته له هغه ځای د رسيدلو څخه د دوی د نامه او د نسبې پوښتنه به ئې هم کړې وي ـ لکه چه د سلاطينو او اعيانو ملا قات کښې عموماً دغه اصول جريان لري لکه چه په ځينو تفاسيرو کښې راغلي دي چه هغوی يوسف عليه السلام ته خپل نوم او صفات بيان کړل ـ څرنگه چه يوسف عليه السلام د بيلتون په وقت کښې ډير وړوکی ؤ، او هم د ده د ورونو فکر او خيال دې لورې ته نه تلو چه گونډی دا به يوسف عليه السلام وي ـ او نه له غټانو او باچاهانو څخه عام خلق داسې جرائت کولی شي چه له دوی ځنې د هغوی د نامه نسب او نورو شيانو پوښتنې وکړی شي نو ځکه دوی يوسف و نه شو پيژندلی.

---

وَلَمَّا جَهَّزَهُم بِجَهَازِهِمْ قَالَ ائْتُونِي بِأَخٍ لَّكُم مِّنْ أَبِيكُمْ ۚ أَلَا تَرَوْنَ أَنِّي أُوفِي الْكَيْلَ وَأَنَا خَيْرُ الْمُنزِلِينَ ﴿٥٩﴾

---

او کله چه تيار کړ (يوسف) دوی ته اسباب د سفر د دوی نو وويل (يوسف ورونو خپلو ته) چه راولئ تاسې ماته هغه ورور ستاسې چه له پلار ستاسې دی! آيا نه وينئ تاسې چه بيشکه زه پوره درکومه پيمانه او زه غوره د ميلمستيا ورکوونکو يم.

---

**تفسير:** حضرت يوسف عليه السلام د خپلو ورونو ښه ميلمستيا عزت او مدارات وکړه ـ او د سرې په سر يو اوښ بار غله ئې دوی ته ورکړه د دغه عالي اخلاق او خاصې مهرباني د ليدلو په اثر وائې چه دوی داسې غوښتنې وکړې چه زمونږ يو علاتی ورور(بنيامين) ځمونږ د سپين ږيرې غمجن پلار له لورې د ده د خدمت او تسکين دپاره په (کنعان) کښې پاتې دی ـ ځکه چه د ده بل عيني ورور يوسف عليه السلام چه پر پلار بې‌اندازې گران ؤ ډيره موده پخوا له دی نه په کومې بيديا کښې هلاک دی ـ که د (بينامين) د برخې غله هم مونږ ته مرحمت وکړی شي نو ډيره مهرباني به وي يوسف عليه السلام وفرمايل چه په دی دول (طريقه) سره د غائب حصه ورکول له اصوله مخالف دی ځکه چه زه ورکوم بار په شمار د انسانانو نه په شمار د حيواناتو کله چه

تاسي بيا راځئ نو (بنيامين) هم له خپله ځانه سره راولئ نو هلته به د هغه برخه هم تاسي ته درکوله کیږي تاسي ځما د اخلاقه او د ميلمانه پاللو له وضعيت څخه بالمشاهده خبر شوی يئ چه زه پوره ورکومه پیمانه او بیرته نه نیسم حق د هیچا نو آیا وروسته له دې نه تاسي ته د خپل وړوکي ورور په راوستلو کښي څه تردد او اندیښنه پیښیدلی شي؟ بلکه هیڅ تردد او اندیښنه له سره مه کوئ او له ځانه سره ئې راولئ

فَإِن لَّمْ تَأْتُونِي بِهِ فَلَا كَيْلَ لَكُمْ عِندِي وَلَا تَقْرَبُونِ ﴿٦٠﴾

نو که را نه وست تاسي ماته دغه (علاتي ورور خپل) نو له سره نشته پیمانه (د غلي) تاسي ته ما سره او مه رانږدې کیږئ تاسي بیا ماته (په مصر کښي)

**تفسیر:** یعني که هغه ورور مو له خپله ځانه سره را نه وست نو داسي ګڼلي شي چه تاسي دروغ وایئ او خلاف الاصول د یوه اوښ شته (بار) وړل مو مقصد دی ـ نو د هغه په سزا کښي وروسته له دې نه نه یوازې ستاسي برخې سوځي بلکه ماته یا ځما په مملکت کښي ستاسي د راتګ اجازه هم سلب کیږي.

قَالُوا سَنُرَاوِدُ عَنْهُ أَبَاهُ وَإِنَّا لَفَاعِلُونَ ﴿٦١﴾

وویل دوی ژر به په کوښښ سره غواړو دی له پلاره د ده او بیشکه مونږ خامخا کوونکي یو( د دی کار).

**تفسیر:** یعني اګر که له پلاره د هغه بیلتون (جدائی) دیر مشکل دی، خو بیا هم مونږ کوښښ کوو چه خپل پلار په یو تدبیر سره خوښ او راضي کړو هیله (امید) شته چه په یو دول (طریقه) په دغه مقصد کښي بري ومومو.

وَقَالَ لِفِتْيَانِهِ اجْعَلُوا بِضَاعَتَهُمْ فِي رِحَالِهِمْ لَعَلَّهُمْ يَعْرِفُونَهَا إِذَا انقَلَبُوا إِلَىٰ أَهْلِهِمْ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٦٢﴾

او ویل (یوسف) مریو(پیمانه ګرو) خپلو ته چه کیږدئ هغه پنګه (ثمن) د دوی په بارونو د دوی کښي په پټه سره ښائیږي چه دوی وپیژني دا(پنګه

خپله او احسان زما) کله چه بیرته لاړ شي دوی اهل خپل ته ښائیږی چه دوی
به بیا بیرته راشي(او را به ولی ورور زما)

**تفسیر:** یعنی کومه پنګه (سرمایه) چه دوی ورکری وه، او د هغی په بدله کښی ئی غله پیرودلی (اخستلی) وه حکم ئی ورکړ چه هغه دی هم په پته سره د دوی په اسبابونو کښی بیرته کیږدی ـ ځو کله چه بیرته خپل کور ته وررسیږی او اسبابونه پرانیځی نو وګوری چه له غلی سره د هغوی پنګی (سرمایی) هم بیرته ورکری شوی دی چه بیا دوهم ځلی راتګ ته زیات ترغیب او تشویق ور پیدا شی ـ او پخپلو زړونو کښی ووائی چه داسی کریم النفس باچا چیری پیدا کیږی. او ممکن دی چه د قیمت د نه پیدا کیدلو له سببه بیا دوی د مصر له راتګه واوړی او که پنګه (سرمایه) ئی په لاس وی نو هرومرو (خامخا) به بیا راځی ـ نو ځکه ئی هغه پنګه (سرمایه) ورمسترده کره ځینی وائی چه یوسف علیه السلام له خپلو ورونو څخه د غلی قیمت اخیستل له مروته او کرمه لری لیده نو ځکه ئی بیرته ورمسترده کره.

فَلَمَّا رَجَعُوْٓا اِلٰٓى اَبِيْهِمْ قَالُوْا يٰٓاَبَانَا مُنِعَ مِنَّا
الْكَيْلُ فَاَرْسِلْ مَعَنَآ اَخَانَا نَكْتَلْ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ﴿۶۳﴾

نو کله چه بیرته وګرځیدل دوی پلار خپل ته نو وویل دوی ای پلاره زمونږ منعه کری شوی ده (بیا) له مونږ نه پیمانه (که راسره لاړ نشی (بنیامین) نو ولیږه له سره ورور زمونږ چه پیمانه واخلو( هم د ده او هم خپله) او بیشکه مونږ ده لره خامخا ساتونکی یو( له مضراتو).

**تفسیر:** یعنی د یوسف علیه السلام په شان د ده په نسبت اندیښنه او تردد مه کوئ اوس مونږ پخپله ویریدلی او هوښیار شوی یو او په پوره ډول (طریقه) سره به د ده حفاظت کوو.

قَالَ هَلْ اٰمَنُكُمْ عَلَيْهِ اِلَّا كَمَآ اَمِنْتُكُمْ عَلٰٓى اَخِيْهِ مِنْ قَبْلُ
فَاللّٰهُ خَيْرٌ حٰفِظًا ۪ وَّهُوَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿۶۴﴾

وویل (یعقوب) آیا امینان کړم تاسی په بنیامین (هم بلکه نه مو شم امینان ګرځولی په ده باندی په هیڅ شان سره) مګر(په دی شان سره) لکه چه

امینان کړی می وئ تاسی پر ورور د ده(یوسف) پخوا له دی نه(یعنی د اعتبار وړ (لائق) نه یئ) نو الله خیر( ډیر غوره ) دی له جهته د ساتنی او هم دی دی ډیر مهربان د تولو مهربانانو

**تفسیر:** یعنی هم دغه د ﴿ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ﴾ الفاظ تاسی د یوسف د بیولو په وقت کښی هم ویلی ؤ نو بیا به زه ستاسی پر دغی وعدی څرنګه اعتبار کولی شم. هو اوس شدید ضرورت دی چه له هغه څخه اغماض (چشم پوشی) نشی کیدلی نو ځکه له تاسو سره د هغه تلل حتمی دی نو زه ئی پر پاک الله سپارم چه همغه الله ئی پخپل حفاظت او مهربانی کښی روغ رمټ وساتی او ما د یوسف علیه السلام له بیلتون څخه وروسته له بل مصیبت څخه پخپل فضل او کرم سره وساتی.

وَلَمَّا فَتَحُوا مَتَاعَهُمْ وَجَدُوا بِضَاعَتَهُمْ رُدَّتْ إِلَيْهِمْ ۖ قَالُوا يَا أَبَانَا مَا نَبْغِي ۖ هَٰذِهِ بِضَاعَتُنَا رُدَّتْ إِلَيْنَا ۖ وَنَمِيرُ أَهْلَنَا وَنَحْفَظُ أَخَانَا وَنَزْدَادُ كَيْلَ بَعِيرٍ ۖ ذَٰلِكَ كَيْلٌ يَسِيرٌ ﴿٦٥﴾

او کله چه پرانستل دوی بارونه خپل وموندله دوی پنګه (سرمایه) خپله چه بیرته رالیږلی شوی وه دوی ته نو وویل دوی ای پلاره زمونږ څه به ( لا زیات احسان) غواړو مونږ، دا ده هغه پنګه (سرمایه) زمونږ چه بیرته رد کړی شوی ده مونږ ته او(بیا ځو چه) غله راوړو اهل خپل ته او ساتو به ورور خپل او زیات به راوړو بار د اوښ (یعنی د بنیامین برخه) دا (یو بار د اوښ) پیمانه ده اسانه (په دغه سخی باچا).

**تفسیر:** یعنی د داسی آسانی پیمانی پریښودل نه دی په کار ـ په هر ډول (طریقه) چه کیږی (بنیامین) له مونږ سره پریږدئ چه لاړ شی. ځینو د ﴿ ذَٰلِكَ كَيْلٌ يَسِيرٌ ﴾ اشاره د هغی غلی په لوری کړی ده چه پخوا ئی راوړی وه او «یسیر» ئی د «قلیل» په معنی اخیستی دی. یعنی هغه غله چه پخوا له دی نه راوړی شوی ده، هغه د حاجت په اعتبار لږه ده او د دی قحط په زمانه کښی تر کاله پوری به بس کیږی؟ ـ لهٰذا ضرور دی چه په هر ډول (طریقه) سره چه کیږی ښائی چه مونږ بیا لاړ شو او د ګردو (تولو) برخی له ځانه سره راوړو.

قَالَ لَنْ أُرْسِلَهُ مَعَكُمْ حَتَّىٰ تُؤْتُونِ مَوْثِقًا مِنَ اللَّهِ لَتَأْتُنَّنِي بِهِ إِلَّا أَنْ

يُّحَاطَ بِكُمْ ۚ فَلَمَّآ اٰتَوْهُ مَوْثِقَهُمْ قَالَ اللّٰهُ عَلٰى مَا نَقُوْلُ وَكِيْلٌ ﴿۶۶﴾

وویل (یعقوب خپلو ځامنو ته) له سره ونه لیږم هغه (بنیامین) له تاسی سره تر هغه پوری چه راکړئ تاسی ماته عهد محکم د الله (په دی خبره) چه خامخا بیرته به راولی ماته هرومرو (خامخا) دی مګر که چاپیر والی وکړ شی پر تاسی باندی (چه مړه یا مغلوب شئ) نو کله چه ورکړه دوی دغه پلار ته وعده محکمه خپله نو وویل(یعقوب ځامنو خپلو ته) چه الله په هغه چه وایو ئی مونږ وکیل (شاهد) دی.

**تفسیر:** یعنی که د الله تعالیٰ له تقدیر سره کومه داسی حادثه ور د مخه شوه چه په هغی کښی تاسی ګرد (تول) سره بړه او مغلوبان شوئ او د نجات هیڅ یوه لاره در پاتی نشی، نو هلته زه هیڅ شی نشم ویلی. هو، سم له خپله توانه او مقدوره تر خپل ژوند پوری د بنیامین په حفاظت کښی څه قصور او لندون مه کوئ، سره د دی پوخ عهد او پیمان اخیستلو او قسمونو یادولو د زیات تاکید او اهتمام په دول (طریقه) ئی وفرمایل ﴿ اللّٰهُ عَلٰى مَا نَقُوْلُ وَكِيْلٌ ﴾ یعنی هغه عهد او پیمان چه مونږ په دغه وقت کښی کوو، هغه ګرد (تول) پاک الله ته سپارو ـ که چا په هغه کښی څه خیانت یا بد عهدی وکړه، نو همغه الله به ئی په سزا رسوی. یا دا چه قول او اقرار سم له خپل مقدوره سره خو پوخ کوئ ـ لیکن له دغو خبرو څخه کوم اصلی مقصد چه دی هغه د الله تعالیٰ له حفاظته او ساتنی څخه پوره په لاس راتلی شی ـ که د پاک الله اراده نه وی نو ګرد (تول) اسباب او تدابیر خوشی چتی (فضول) او بیکاره دی، او هیڅ به په لاس نه راځی.
حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «ظاهری اسباب ئی پاخه کړل ـ او توکل ئی پر الله وکړ ـ هم داسی حکم دی پر هر چا»

وَقَالَ يٰبَنِيَّ لَا تَدْخُلُوْا مِنْۢ بَابٍ وَّاحِدٍ وَّادْخُلُوْا مِنْ اَبْوَابٍ مُّتَفَرِّقَةٍ ؕ وَمَآ اُغْنِيْ عَنْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ ؕ اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ؕ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ۚ وَعَلَيْهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ﴿۶۷﴾

او ویل (یعقوب) له شفقته ای ځامنو زما مه ننوځئ تاسی(مصر ته) له دروازی یوی ( چه نظر وانخلئ) او ننوځئ( دوه دوه یا دری دری) له دروازو بیلو بیلو څخه، او نشم دفع کولی زه له تاسی نه له (قضا) د الله نه (په تدبیر

سره) هيڅ شي، نه دی حکم (په قضا سره) مګر خاص الله ته دی خاص پر هم ده توکل کړی دی ما، او هم په هم ده باندی نو توکل دی وکړی توکل کوونکی.

**تفسیر:** د یوسف علیه السلام ورونه اول ځلی مصر ته تللی وو لکه د نورو عامو مسافرانو په شان بلا امتیاز په ښار کښی داخل شوی وو. لیکن د یوسف علیه السلام د خاصو توجهاتو او الطافو د لیدلو له سببه یقیناً د هغه مملکت د خلقو سترګی به د دوی پر لاره لګیدلی وی ـ اوس بیا دغه راتلل په خاص شان او اهتمام سره بلکه داسی وویلی شی چه یو راز (قسم) د یوسف علیه السلام پر بلنه او دعوت سره ؤ ـ (بنیامین) چه د هغه حفاظت او محبت حضرت یعقوب علیه السلام وروسته له یوسف علیه السلام څخه دیر زیات کاوه، هم له خپلو ورونو سره ؤ حضرت یعقوب علیه السلام ته داسی خیال پیدا شو چه د یوه پلار یوولسو وجیهه ؤ او ښائسته ؤ ځامنو په یوه خاص شان او اجتماعی هیئت سره په ښار کښی ننوتل ـ خصوصاً وروسته له هغه ښه سلوکه چه د مصر عزیز یوسف علیه السلام له لوری له هغوی سره شوی ؤ، او خلقو هغه مشاهده کړی ؤ داسی یو شی دی چه د هغه په لوری د عمومو سترګی هرومرو (خامخا) اړولی کیږی ـ «العین حق» نظر لګیدل هم یو حقیقت لری. او نن ورځ د «مسمریزم» عجائبات خو عموماً د کتلو د قوت له کرشمو څخه دی یعقوب علیه السلام خپلو ځامنو ته له بده نظره او د حسد او نورو مکروهاتو د ژغورنی (بچ کوونی) دپاره دغه ظاهری تلقین وفرمایه چه سره تیت او پرک (منتشر) شئ او په معمولی حیثیت سره د ښار له مختلفو دروازو څخه ننوځئ ـ نه چه خامخا د عوام‌والناسو له جانبه تاسی نظر شئ او له دی سره ئی متصل دغه وفرمایل چه د کومی چاری او تدبیر په کولو سره هم هیڅوک د قضا او قدر فیصلی نشی ګرځولی ـ په ګردو (تولو) کائناتو کښی یوائې د پاک الله حکم چلیږی ـ زمونږ دغه ګرد (تول) انتظامات د الله تعالیٰ د حکم په مقابل کښی بیکاره دی. هو، تدبیر او چاره لټول هم د هغه په حکم سره کولی شی ځکه چه هغه ئی راجائز درولی دی ـ انسان ته لازم دی چه خپل د ژغورنی (بچ کوونی) او ساتنی تدبیر وکړی مګر اعتماد او توکل دی یوائې پر پاک الله ولری. ګواکی دغه خبره ئی خپلو ځامنو ته واوروله چه تاسی هم زما پشان د زړه له کومی (منځ) د الله تعالیٰ پر حفاظت متوکلان اوسئ، او تش پر تدابیرو مه غره کیږی،

وَلَمَّا دَخَلُوا مِنْ حَيْثُ أَمَرَهُمْ أَبُوهُمْ مَا كَانَ يُغْنِي عَنْهُمْ مِنَ اللَّهِ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا حَاجَةً فِي نَفْسِ يَعْقُوبَ قَضَاهَا ۚ وَإِنَّهُ لَذُو عِلْمٍ لِمَا عَلَّمْنَاهُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٦٨﴾

او کله چه ننوتل دوی (مصر ته) له هغه ځایه چه امر کړی ؤ دوی ته پلار د دوی (چه له مختلفو دروازو ننوځئ) نه ؤ دغه ننوتل له بیلو بیلو دروازو چه دفع کړی له دوی نه له قضا د الله څخه هیڅ څیز لیکن یو حاجت چه په نفس د یعقوب کښې ؤ ادا ئی کړ هغه، او بیشکه دغه (یعقوب) خامخا خاوند د پوه ؤ په سبب د دی چه خبردار کړی ؤ مونږ دی لیکن زیات د خلقو نه پوهیږی (په دی چه نه اوړی تقدیر په تدبیر).

**تفسیر:** یعنی څرنګه ئی چه ویلی ؤ همغسی ننوتل ـ اګر که دوی ته څه نظر او ضرر له سترګو ور ونه رسید لیکن له بل لوری تقدیر ور ورسید چه (بنیامین) د غلا په الزام کښې ستون (واپس) کړ شو. هو! تقدیر نه دفع کیږی نو هغه کسان چه د علم خاوندان دی دوی پر تقدیر یقین او ده د نجات پر اسبابو پر دواړو ئی پوه حاصل کیدی شی لیکن بی علمه سری پر یوه پوهیږی او له دوهمه بی خبره پاتی کیږی ـ یا بیخی پر اسبابو باندی اتکا کوی او له تقدیره منکریږی ـ یا پر تقدیر باندی د یقین لرلو معنی داسی ګنی چه ګرد (تول) اسباب معطل کړل شی ـ البته عارفان او پوهان تقدیر او تدبیر دواړه تولوی ـ او هر یو هغه پر درجه ږدی .

نه پرانیځی په ترون سره ترنه
خو ترون لره په کار دی بیا ترنه »

وَلَمَّا دَخَلُوا عَلَىٰ يُوسُفَ آوَىٰ إِلَيْهِ أَخَاهُ قَالَ إِنِّي أَنَا أَخُوكَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٦٩﴾

او کله چه ورننوتل دغه (ورونه) پر یوسف نو رانژدی ئی کړ خپل ځان ته ورور خپل (بنیامین) وویل(یوسف په عبرانی ژبه پټه بنیامین ته) زه چه یم هم دا زه یم ورور ستا(یوسف) نو مه خفه کیږه په هغو کارونو چه ؤ دوی چه کول ئی (پخوا له مونږ سره).

**تفسیر:** حضرت یوسف علیه السلام (بنیامین) سره ممتازه معامله وکړه او په پټه ئی دی پوه کړ چه زه ستا حقیقی ورور(یوسف) یم. هغه مظالم چه پر مونږ دغو علاتی ورونو کړی دی چه زه ئی له پلاره جلا (جدا) کړم، او په کوهی کښې ئی وغورځولم، او زه ئی مریی څرګند (ښکاره) کړم، او زمونږ پلار او نور ئی زما د فراق په صدمو کښې مبتلا کړل ـ یا اوس د دی لوری د راتلو په وقت کښې چه لتا سره کومه سختی کړی ده له دغه خبرو څخه له سره مه خفه کیږه ـ اوس وقت را رسیدلی دی چه زمونږ دغه ګرد (تول) غمونه غلط او پورته او ورک شی ـ او وروسته

له سختیو پاک الله تعالیٰ مو راحت عزت او پت را په برخه کړی حضرت شاه صاحب لیکی، «پر دغه ورور چه یوسف علیه السلام پر مینه او محبت سره رابللی ؤ نور ورورنو ته حسد او رخه (کینه) ورپیدا شوه او په دغه سفر کښی به پر هره خبره ورسره لګیدل او طعنی به ئی ورکولی نو دغه دی چه اوس یوسف علیه السلام ورور ته تسلی ورکوی وائی چه بنیامین حضرت یوسف علیه السلام ته وویل چه زه خو بیا له تانه نه بیلیږم نو یوسف علیه السلام وویل چه پلار لا له پخوا هم ځما له جهته غمجن دی، او په دغه پاتی کیدلو ستا کښی به لا ویرجن شی آما خو په یوه بهانه به دی تر دوی ستون (واپس) کړم. لکه چه وائی

فَلَمَّا جَهَّزَهُم بِجَهَازِهِمْ جَعَلَ السِّقَايَةَ فِي رَحْلِ أَخِيهِ ثُمَّ أَذَّنَ مُؤَذِّنٌ أَيَّتُهَا الْعِيرُ إِنَّكُمْ لَسَارِقُونَ ۝٧٠

نو کله چه تیار ئی کړل دوی ته اسباب د سفر د دوی نو کیښوده جام د اوبو څښلو (د باچا پټ) په بار د ورور خپل کښی نو غږ وکړ غږ کوونکی او (خلقو د) قافلی (ودریږی چه) بیشکه تاسی خامخا غله یئ.

**تفسیر:** یعنی کله چه د یوسف علیه السلام په حکم د دوی غلی ئی ور بار کړی ـ او د سفر ګرد سامان ئی ور تیار شو ـ نو یو جام د اوبو څښلو ئی د خپل ورور(بنیامین) په اسباب کښی کیښود ( چه د زرو یا زبرجدو په جواهرو جراؤ ؤ بیا چه غله  ډیره ګرانه شوه نو هغه ئی پیمانه کړه څه مهال (وخت) چه کاروان (جوپه) له ښاره د باندی ووته نو پیره‌داران د هغه جام په لټولو پسی ولویدل بالاخر هغوی ته پر دغی قافلی شبهه پیدا شوه ـ څرنګه چه قافله ښائسته لری تللی وه ، نو پیره‌دارانو ورپسی ناری سوری کړی چه ای کاروانیانو ودریږئ  چه تاسی یقینا غله په نظر راځئ .

**تنبیه:** که دغه لفظ یوسف علیه السلام  په حکم سره ویلی شوی وی نو مطلب به ئی داسی شی چه نور خو مال او اسباب غلا کوی ـ تاسی خو هغه سری یئ چه له خپله پلاره مو خپل ورور غلا کړ او په پټه مو هغه د مرئیء په نامه ویریا(مفت) خرخ کړ.

قَالُوا وَأَقْبَلُوا عَلَيْهِم مَّاذَا تَفْقِدُونَ ۝٧١

وویل (ورونو د یوسف) او مخونه ئی راواړول پر دغو ( نوکرانو د یوسف) چه څه شی دی هغه چه تاسی ورک کړی دی ( او لټوئ ئی؟)

**تفسیر:** یعنی مونږ ولی خامخا غله بولۍ؟ که ستاسی کوم شی ورک شوی وی، نو هغه راوښیۍ مونږ خو چیری لری نه یو تللی راشۍ زمونږ مالونه او اسبابونه راولټوی

قَالُوا نَفْقِدُ صُوَاعَ الْمَلِكِ وَلِمَنْ جَآءَ بِهٖ حِمْلُ بَعِيْرٍ وَّاَنَا بِهٖ زَعِيْمٌ ﴿٧٢﴾

وویل دوی ورک کړی دی ( لټوؤ) مونږ پیمانه د باچا او دی هغه چاته چه را ئی وړه پیمانه بار د یوه اوښ او زه په دی (بار) ضامن یم (چه ور ئی کړم پیدا کوونکی ته

**تفسیر:** پیره دارانو وویل چه مونږ د باچا د اوبو څښلو جام یا د غلی پیمانه لټوو چه ورک شوی دی ( یعنی پخوا له دی نه پکښی باچا اوبه څښلی او اوس په دغه وقت کښی په همغه د سرو زرو جام دپاره د عزت د طعام د پیمانی کار هم انجام مومی. که کوم سړی ئی بی له حیلی او حجته راحاضر او راوړی نو د اوښ د ښتی (بار) غله به ورانعام او ورویښو او زه ئی ذمه وار یمه چه ور رسوم به ئی.

قَالُوا تَاللّٰهِ لَقَدْ عَلِمْتُمْ مَّا جِئْنَا لِنُفْسِدَ فِی الْاَرْضِ وَمَا كُنَّا سٰرِقِيْنَ ﴿٧٣﴾

وویل دوی قسم دی په الله خامخا په تحقیق پوه یئ تاسی چه نه یو راغلی مونږ دپاره د دی چه فساد وکړو په ځمکه (مصر) کښی او هرګز( نه یو مونږ غلا کوونکی) د دی جام.

**تفسیر:** یعنی په مصر کښی زمونږ وضعیت او ګذاره ګردو (تولو) خلقو ته په عمومی دول (طریقه) ور معلومه ده چه فساد کوونکی نه یو ـ او که وائی نو د خپلو اوښانو خولی به مو ولی ترلی چه په لاره کښی د چا مال ونه خوری مونږ دلته هیڅ یو شرارت نه دی کړی او نه د فساد او شرارت له امله (وجی) دلته راغلی یو ـ او نه د غلو له کورنی څخه یو او که وی نو له کنعانه به مو هغه پانګه (سرمایه) بیرته نه راوړه چه زمونږ په بارونو کښی تللی وه.

قَالُوا فَمَا جَزَآؤُهٗۤ اِنْ كُنْتُمْ كٰذِبِيْنَ ﴿٧٤﴾

نو وویل (بیا دغو نوکرانو) چه څه به وی جزاء د هغه ( جام یا د سارق) که (ښکاره) شوئ تاسی دروغجنان.

**تفسیر:** محافظینو وویل چه تاسی خوشی چتی (بیکاره) خبری ولی کوئ؟ اوس مونږ ستاسی کالی (جامی) او اسباب لټوو که دغه مسروقه مال له تاسی څخه ووت، نو بیا به څه ووایئ؟ او څه به وکرئ؟ او سزا به مو څه وی ؟

قَالُوْا جَزَآؤُهٗ مَنْ وُّجِدَ فِیْ رَحْلِهٖ فَهُوَ جَزَآؤُهٗ ؕ كَذٰلِكَ نَجْزِی الظّٰلِمِیْنَ ﴿۷۵﴾

نو وویل(بیا ورونو د یوسف) چه سزا د دی (غلا نیول د) هغه چا دی چه ومونډلی شوه ( دغه پیمانه) په بار د ده کښنی نو هم دی دی سزا د هغه ( چه مریی شی) هم داسی سزا ورکوو مونږ ظالمانو ( غلو) ته.

**تفسیر:** یعنی دغه چه غل مریی کیږی د مال د خاوند په ابراهیمی شریعت کښی د غلو سزا وه یعنی له هر چا څخه چه د غلا مال ووځی هغه به تر یوه کال پوری د غلام په حیثیت د مال د خاوند سره پاتی کیږی ـ د یوسف علیه السلام ورونو سم له خپله شرعی قانونه سره بی له تامله د سزا ذکر وکړ، ځکه چه دوی پوره متیقن وو چه مونږ نه غله یو ـ او نه د غلا مال امکان لری چه له مونږ څخه ووځی نو ځکه دوی په خپل اقرار سره ملزم او ونیول شول او بیرته د مصر ښار ته بوتلل شول د باچا د دربار سره مخامخ بارونه ئی تری واړول

فَبَدَاَ بِاَوْعِیَتِهِمْ قَبْلَ وِعَآءِ اَخِیْهِ ثُمَّ
اسْتَخْرَجَهَا مِنْ وِّعَآءِ اَخِیْهِ ؕ كَذٰلِكَ كِدْنَا لِیُوْسُفَ ؕ مَا
كَانَ لِیَاْخُذَ اَخَاهُ فِیْ دِیْنِ الْمَلِكِ اِلَّاۤ اَنْ یَّشَآءَ اللّٰهُ ؕ نَرْفَعُ
دَرَجٰتٍ مَّنْ نَّشَآءُ ؕ وَ فَوْقَ كُلِّ ذِیْ عِلْمٍ عَلِیْمٌ ﴿۷۶﴾

نو شروع وکړه (یوسف یا جارچی په لټولو د) بارونو د دوی ړومبی له باره د ورور د ده(لپاره د دفعی د تهمت نو بیا ئی ونه مونډ په هغو کښی بیا ئی را وویستله دغه (پیمانه) له باره د (سکه) ورور خپل، هم دا رنګه تدبیر ښوولی وو مونږ یوسف ته، نه وو دغه (یوسف داسی) چه ونیسی (مریی بی له ښوونی د الله) ورور خپل په دین (قانون) د باچا (مصر) کښی مګر چه اراده وفرمایله الله ( دغه تدبیر ئی وروښود)، پورته کوو مونږ (په علم او حکمت

سره) مرتبې د هر چا چه اراده وفرمایو مونږ، او د پاسه د هر خاوند د علم لوی دی (ان تر الله پوری خو له الله سره نه برابر شته او نه تری پورته).

**تفسیر:** یعنی د دغو ویناؤ څخه وروسته محافظینو دوی د مصر عزیز یوسف ته بوتلل - او دغه گرده (توله) پیښه ئی ور واوروله. یوسف علیه السلام د تفتیش او تحقیق امر صادر کړ - ړومبی ئی د نورو ورونو د بارونو په سپړدلو شروع وکړه او د دوی ټختی بستری څوری او نور ئی ولیدل خو له دوی څخنی هغه جام را ونه ووت - بالاخر د بنیامین د اسبابو د لټولو وار راغی او هغه جام تری راووت.

﴿ كَذَٰلِكَ كِدْنَا لِيُوسُفَ ۖ مَا كَانَ لِيَأْخُذَ أَخَاهُ ﴾ الآیة - هم دا رنگه تدبیر حکمت او لاره مو ورزده او ورښوده یوسف ته نه ؤ یوسف داسی چه ونیسی مریی وورور خپل په دین او قانون د باچا د مصر کښی مگر چه اراده وفرمایله الله چه دغه تدبیر ئی وروښود ځکه چه حکم د مصر د غلو په حق کښی وهل او عذابول او دوچنده تری مسروقه مال اخیستل ؤ نه مریی گرځول یعنی د ده د ورونو له ژبی څخه په خپله دغه خبره راووته چه له هر چا څخه چه دغه مال ووځی، هغه غلام وگرځوه ! نو پر هم دغی ونیوه شو که نه دغه خو د مصر د حکومت قانون نه ؤ که داسی تدبیر نه کیده چه پخپلو اقرارونو کښی سره راگیر شی نو د مصری قانون له مخی هیڅ یو داسی کوم صورت چه د هغه له مخی د بنیامین د بیرته ستنولو (راواپس کولو سند کیدی شو نه ؤ موجود

( ﴿ نَرْفَعُ دَرَجَٰتٍ مَّن نَّشَآءُ ﴾ - پورته کوو مونږ مرتبې د هر چا چه اراده وفرمایو مونږ د پورته کولو ئی) یعنی د هر چا په نسبت چه اراده وفرمائی حکمت او تدبیر ورښیی یا په خپل لطیف تدبیر سره لوړتیا ورکوی وگوره هغه ځلمیان چه په غلا سره ئی له خپله پلاره یوسف غلا کړ - او په څو روپو ئی وپلوره (خرخ کړو) نن د غلو په حیثیت د یوسف په مخ کښی ولاړ دی ښائی په دی دول (طریقه) سره د دوی د پخوانیو غلطیو کفاره وی

( ﴿ وَفَوْقَ كُلِّ ذِي عِلْمٍ عَلِيمٌ ﴾ - او د پاسه د هر خاوند د علم لوی عالم دی ان تر الله پوری خو له الله تعالیٰ سره نه برابر شته - او نه تری پورته) یعنی په دنیا کښی له یوه انسان څخه زیات پوهنده دوهم څخه دریم ښه پوهنده او خبردار دی اما د ټولو پوهانو سره پورته یو لوی او پوهه شته چه هغه ته عالم الغیب والشهاده وائی.

**تنبیه:** واضحه وی چه په دغه ټوله واقعه کښی هیڅ یو لفظ د یوسف علیه السلام له ژبی څخه له واقع څخه مخالف نه دی وتلی - او نه د شرعی څخه مخالف کوم حرکت تری صادر شوی دی فقط یوائی توریه ئی کړی ده د «توریه» مطلب دا دی چه کومه داسی خبره ووائی یا ئی وکړی چه د هغه د لیدلو یا آوریدلو څخه ذهن ته یو ظاهری او نژدی مطلب راشی لیکن د متکلم مقصد بل داسی یو شی وی چه له ظاهری او قریبی مطلب لری وی - که دغه «توریه» د کوم نیک او محمود مقصد لپاره وکړی شی، نو د هغه په جواز بلکه په محمودیت کښی هیڅ د شبهی ځای

نشته او که د کوم مذموم او قبیح کار لپاره وی نو هغه «توریه» نه بلکه مکر او فریب دی. دلته د الله تعالیٰ منظور داسی ؤ چه د یعقوب علیه السلام ابتلا او امتحان تکمیل شی ـ د یوسف علیه السلام څخه وروسته ئی (بنیامین) هم تری بیل کړی او له بل لوری وروسته له یوی اوږدی مودی څخه شکیدلی او لری شوی دوه سکنی ورونه هم سره یو ځای ووینی او ملاقی شی، او له یوسف سره هم وروسته له دی نه چه دی د امتحان له کندو او ژورو څخه ووځی ړومبی د ده د علاتی ورونو ـ بیا د عینی ورور او بالاخر د لوی پلار او ګرد (تول) کور او کهول متدرجاً ملاقات وشی ـ او له بل لوری د یوسف له ورونو ځنی هغه اغلاط او خطاوی چه شوی وی، ښائی چه هغوی هم لږ څه ربړونه (تکلیفونه) وګالی (برداشت کړی)، او بیا د عفوی او رحم دروازی ته ورسیږی ـ او برسیره پر دی نه دی معلوم چه نور څه څه حکمتونه به هم وی ـ چه د هغو له امله (له وجی) یوسف علیه السلام ته لږ څه د «توریئ» په نسبت هدایت ورکړی شوی ؤ چه دوی جام د خپل ورور په اسبابو کښی کیښود بیا ئی نه پر بل چا د غلا الزام واړوه نه ئی داسی وویل چه هغه سری ته مو د غلا په الزام کښی سزا ورکړه ـ بلکه طبعاً داسی صورتونه څرګند (ښکاره) شول چه د هغو په وسیله (بنیامین) ته د خپل ورور کره په عزت ـ راحت او هوسائی (آسانی) سره د اوسیدلو لاره پیدا شوه. هو! مصلحتاً ځینی داسی الفاظ هم استعمال شوی دی چه د هغوی متبادری معانی نه وی مراد یا پر ځینو شیانو سکوت کړی شوی دی چه که د هغو په نسبت ئی څه ویل نو هغه پته خبره به څرګندیده او اصلی مقصد به له لاسه وتو والله اعلم.

قَالُوٓا۟ إِن يَسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ أَخٌ لَّهُۥ مِن قَبْلُ ۚ فَأَسَرَّهَا يُوسُفُ فِى نَفْسِهِۦ وَلَمْ يُبْدِهَا لَهُمْ ۚ قَالَ أَنتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا ۖ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَصِفُونَ ﴿٧٧﴾

نو وویل (ورونو د یوسف) که غلا وکړه دغه (بنیامین نو هیڅ عجیبه نه ده ځکه چه) پس په تحقیق سره غلا کړی وه (سکنی) ورور د ده هم پخوا له دی نه، نو پته وساتله دغه (خبره) یوسف په نفس خپل کښی او ښکاره ئی کړه (هغه خبره) دوی ته، وویل (یوسف پټ په خپل زړه کښی) چه تاسی ډیر بد یئ له جهته د مرتبی (چه ورور مو له پلاره غلا او د مریی په نامه مو سودا کړ) او الله ښه عالم دی په هغه خبره چه تاسی ئی بیانوئ (په حق د یوسف کښی)

**تفسیر:** دغه اشاره د یوسف علیه السلام په لوری ده دوی د خپلی پاکی ښوولو دپاره محض د ناحقه ویلو او عناد څرګندولو (ښکاره کولو) دپاره د بنیامین جرم پوخ کړ او د دومره مودی له تیریدلو څخه وروسته هم پر معصوم یوسف علیه السلام باندی د دروغو الزام اړولو څخه ونه شرمیدل.

مفسرينو په دغی موقع کښې ډيری قصې بيانی کړی دی چه د هغو په لوری د يوسف عليه السلام ورونو د غلا په لفظ کښې اشاره کړی وه او د هغوی د نقل حاجت دلته نشته
( ﴿ فَأَسَرَّهَا يُوسُفُ فِي نَفْسِهِ ﴾ الآية - نو پټه وساتله دغه خبره يوسف عليه السلام په نفس خپل کښې او ښکاره ئې نه کړه هغه خبره دوی ته. وويل يوسف عليه السلام پټ په زړه خپل کښې چه تاسی ډير بد يئ له جهته د مرتبې چه ورور مو له پلاره غلا او د مړئې په نامه مو سودا کړ) يعنې سره د داسی سخت لفظ اوريدلو بيا هم يوسف عليه السلام خپل ځان وساته - ځکه چه د الله تعالیٰ مصلحت د دوی د پټی خبری په ښرګندیدلو (ښکاره کيدلو) او افشاء مقتضی نه وه. يوسف عليه السلام دغه خبره هم پخپل زړه کښې پټه وساتله، او پخپل جواب کښې ئې د دوی د اتهام حقيقت ور ښرګند (ښکاره) نه کړ - بلکه پخپل زړه کښې ئې وويل ﴿ أَنتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَصِفُونَ ﴾ يعنې بالعکس غله پر کوتوال خوله آچوی، او تاسی ما هم غل بولئ - حال دا چه تاسی داسی يوه غلا کړی ده چه خپل ورور مو له پلاره غلا او ناحقه مو هغه په څو روپيو وپريا سودا کړی دی باقی زما د غلا حال خو پاک الله ته معلوم دی. ځينو مفسرينو له ﴿ شَرٌّ مَّكَانًا ﴾ الآية - څخه داسی مطلب اخيستی دی چه يوسف عليه السلام هغوی ته خطاب کوی چه تاسی خوړا ډير بد خلق يئ - اوس خو مو وويل چه ﴿ وَمَا كُنَّا سَارِقِينَ ﴾ مونږ له غلو څخه نه يو - اوس چه مو د يوه ورور له کاليو (جامو) څخه هغه مال راښرګند (ښکاره) شو، هغه سره هغه بل بيګناه ورور ئې هم ملوث کوی، ګواکې غلا کول ستاسی د کورنی کسب دی (العياذ بالله) الله تعالیٰ ښه پوهيږی چه تاسی پخپلی دغی وينا کښې تر کوم ځای پوری رښتين يئ - همغه به تاسی ته د دغه غلط بيان سزا درکوی
(کله چه يوسف عليه السلام بنيامين خپلو سريو ته ورکړ - نو ورونه ئې په زاری شول او)

---

قَالُوا يَا أَيُّهَا الْعَزِيزُ إِنَّ لَهُ أَبًا شَيْخًا كَبِيرًا فَخُذْ أَحَدَنَا مَكَانَهُ إِنَّا نَرَاكَ مِنَ الْمُحْسِنِينَ ﴿٧٨﴾

---

وويل دوی ای عزيزه بيشکه ده لره يو پلار دی زوړ ډير معمر (چه پس له يوسفه له ده سره مينه کوی) نو ونيسه يو له مونږه په ځای د ده (يرغمال او دی راپرېږده)، بيشکه مونږ وينو تا له احسان کوونکو څخه.

---

**تفسير:** يعنې زمونږ سپين ږيری پلار ته به سخته صدمه وورسيږی. ځکه چه هغه زمونږ له ګردو (ټولو) څخه هم دغه (بنيامين) او د ده سکنی ورور يوسف عليه السلام سره مينه او محبت کاوه. وروسته له يوسف عليه السلام د هغه د زړه تسلی يواځی پر هم ده وه - تاسی که د ده په ځای له مونږ څخنی يو تن ستون (واپس) کړئ، نو پر مونږ به ستاسی ډيره لويه مهربانی وی - تاسی تل پر

مخلوقاتو احسان کوئ او بالخاصه پر مونږ دی خصوصی احسان هم کړی دی ـ نو مونږ امید لرو چه د خپل له کرمه مو مه بی هیلی کوئ،.

قَالَ مَعَاذَ اللّٰهِ اَنْ نَّاْخُذَ اِلَّا مَنْ وَّجَدْنَا مَتَاعَنَا عِنْدَهٗۤ اِنَّاۤ اِذًا لَّظٰلِمُوْنَ ﴿۷۹﴾

وویل(یوسف علیه السلام ورونو خپلو ته) پناه غواړو په الله پوری چه ونیسو مونږه (بیګناه) مګر(به نیسو) هغه څوک چه موندلی دی مونږ اسباب خپل په نزد د هغه،(که ونیسو په ځای د هغه بل څوک) نو مونږ به په هغه وقت کښی خامخا له ظالمانو اوسو.

**تفسیر:** یعنی مونږ پرالله تعالیٰ له دی نه پناه نیسو چه بی له سببه د یوه په ځای بل ونیسو ـ مونږ خو یواځی همغه سړی راستنوو (واپس کوو) چه له هغه سره مو خپل شیز موندلی دی او هغه بنیامین دی چه د عینی ورورولئ لامله (له وجی) به له مونږ سره پاتی کیږی دلته هم د ﴿ اِلَّا مَنْ وَّجَدْنَا مَتَاعَنَا عِنْدَهٗۤ ﴾ په ځای «الا من سرق» نه دی ویلی چه لنده او مختصره وه ځکه چه هغه له واقع څخه مخالفه وه او که د هغه په ځای بل څوک ونیسو نو بیشکه چه مونږ په دغه وقت کښی خامخا له ظالمانو به اوسو په ابراهیمی دین کښی ځکه چه دی خو مونږ ستاسی په فتوی نیولی دی یعنی که د مجرم په بدله کښی بل کوم بی قصوره ونیسو ـ نو ستاسی له خیاله او قانونه مخالف او غلط له انصافه یو کار دی.

فَلَمَّا اسْتَيْــَٔسُوْا مِنْهُ خَلَصُوْا نَجِيًّا ؕ قَالَ كَبِيْرُهُمْ
اَلَمْ تَعْلَمُوْۤا اَنَّ اَبَاكُمْ قَدْ اَخَذَ عَلَيْكُمْ مَّوْثِقًا مِّنَ اللّٰهِ
وَمِنْ قَبْلُ مَا فَرَّطْتُّمْ فِیْ يُوْسُفَ ۚ فَلَنْ اَبْرَحَ الْاَرْضَ
حَتّٰى يَاْذَنَ لِیْۤ اَبِیْۤ اَوْ يَحْكُمَ اللّٰهُ لِیْ ۚ وَهُوَ خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ ﴿۸۰﴾

نو کله چه نا امیده شول دوی له دغه (یوسف په نه قبلولو د سوال د خلاصی د بنیامین) نو ګوښه (بیل) شول دوی په دی حال کښی چه مشوره کوونکی ؤ(پخپلو منځونو کښی) وویل مشر د دوی (په عمر کښی یا په فکر کښی) آیا نه پوهیږئ چه بیشکه پلار ستاسی په تحقیق اخیستی وه له تاسی(په بیرته

بيولو د بنيامين) سخته وعده له وعدو د الله (په حفظ د بنيامين كښې او اوس دا حادثه راپيښه شوه) او پخوا له دی نه تقصير كړی ۇ تاسي په حق د يوسف كښې، نو له سره به زه نه خوځيږم له دې ځمكې (مصر څخه تر هغه پوری چه اذن راكړی ماته پلار زما (په رجوع سره كنعان ته) يا حكم راكړی الله ماته (په وتلو سره له مصره يا په خلاصيدو د ورور زما)، او هم دغه( الله) ډير غوره د حكم كوونكو دی.

**تفسير:** ﴿ مَا فَرَّطْتُمْ ﴾ كښې «ما» زائده ده ځيني وائي مصدريه ده او كيږی چه موصوله شي. كله چه دوی له حضرت يوسف عليه السلام څخه دغه جواب واوريد او مأيوس شول، نو له ډلې څخه گوښي (بيل) شول، پخپلو منځونو كښې ئې سره مشوره وكړه د اكثرو رأيه پر دغه قرار ونيوه چه ښائي وطن ته بيرته لاړ شو. د دوی په منځ كښې هغه چه د عمر يا د عقل يا د نورو وجوهو په اعتبار لوی ۇ، وے ويل چه مونږ به خپل پلار ته په كومو ستركو او مخ سره مخامخ شو؟ چه هغه له مونږ څخه عهد اخيستی ۇ ـ او د هغه جواب څه ووايو؟ يو تقصير خو له مونږ څخه پخوا له دی نه د يوسف عليه السلام په معامله كښې شوی دی چه د هغه اثر تر نن ورځی پوری موجود دی، اوس كه مونږ (بنيامين) هم دلته پريږدو، او تول لاړ شو نو ډيره سخته بې غيرتي او بې حميتي به وی، نو واضح دی وی چه زه خو له سره له دی ځايه هيچيری خوځيدونكی نه يم، تر څو چه خپل لوی آبا ماته د بيرته راتللو حكم راكړی، يا په دغه منځ كښې د پاك الله تعالىٰ له لوری بله كومه فيصله وشي، مثلاً له تقديره زما د مرگ نيته پوره شي او مړ شم يا په بل تدبير سره (بنيامين) ته نجات وركړم.

**تنبيه:** دغه ويونكى به غالباً همغه ورور وی چه د يوسف عليه السلام په معامله كښې ئې ړومبى هم پسته مشوره وركړی وه چه ﴿ لَا تَقْتُلُوا يُوسُفَ ﴾

ارْجِعُوا إِلَىٰ أَبِيكُمْ فَقُولُوا يَا أَبَانَا إِنَّ ابْنَكَ سَرَقَ وَمَا شَهِدْنَا إِلَّا بِمَا عَلِمْنَا وَمَا كُنَّا لِلْغَيْبِ حَافِظِينَ ﴿٨١﴾

بيرته لاړ شئ تاسي پلار خپل ته نو ووايئ (ورته) ای پلاره زمونږ په تحقيق ځوی ستا(بنيامين) غلا وكړه، او مونږ نه ۇ ويلی بل شی مگر هغه مو وويل چه پری خبر وو (چه د باچا جام ووت له باره د ده) او نه وو مونږ پټ كار دپاره ساتونكي

**تفسير:** يعنی ما هم دلته پريږدئ او تاسي گرد (تول) لاړ شئ او د خپل پلار په حضور كښې

عرض وکړئ چه دغسی یوه واقعه راپیښه شوه چه له سره ئی توقع نه وه او نه وو مونږ د پټ کار ساتونکی چه دغه جام پخپله بنیامین پټ کړی ؤ او که بل چا د ده په بار کښی ایښی ؤ؟
حضرت شاه صاحب لیکی «یعنی مونږ خو له تاسی سره پر خپل پوه قول او عهد کړی ؤ ـ او له دی نه نه وو خبر چه (بنیامین) به غلا کوی او په غلا کښی به نیولی کیږی ـ یا مونږ له خپل دین سره سم د غله د نیولو او ساتلو لار وروړښووله، او له دی نه نه وو خبر چه زمونږ وروړ پخپله غل دی»

وَسْـَٔلِ الْقَرْيَةَ الَّتِيْ كُنَّا فِيْهَا وَالْعِيْرَ الَّتِيْٓ اَقْبَلْنَا فِيْهَا ؕ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿٨٢﴾

او پوښتنه وکړه پخپله (قاصد په ژبه له خلقو) د هغی قریی(د مصر یا بل کوم ورته نژدی کلی څخه) چه وو مونږ په هغه کښی او(پوښتنه وکړه) له هغه کاروانه چه مونږ مخ کړی ؤ(راغلی وو کنعان ته) په دغه (قافله) کښی، او بیشکه خامخا مونږ صادقان یو.

**تفسیر:** یعنی تاسی یو معتبر سړی ولیږئ او له هغو کلیو څخه د دغی خبری ښه تحقیق وکړئ چه هلته دغه واقعه پیښه شوی ده ـ او اوس بیرته راغلی دی، نو تاسی ته به دغه خبره ښیخی ثابته شی چه مونږ پخپله په دغی وینا کښی بالکل رښتینی یو.
(الغر ض چه راغلل دا ورونه په حکم د مشر ورور خپل سره چه روئیل یا یهودا ؤ کنعان ته او داسی عرض ئی وکړ خپل پلار یعقوب علیه السلام ته چه پاس مذکور شو، نو په جواب کښی حضرت یعقوب علیه السلام داسی وویل دوی ته)

قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ اَنْفُسُكُمْ اَمْرًا ؕ فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ ؕ عَسَى اللّٰهُ اَنْ
يَّاْتِيَنِيْ بِهِمْ جَمِيْعًا ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ﴿٨٣﴾

وویل(داسی نه ده چه تاسی ئی وایئ) بلکه ښائسته کړی دی تاسی ته نفسونو ستاسی یو کار(چه اراده مو ورته کړی وه)، نو(اوس کار زما) صبر دی بهتر، نژدی دی دا چه الله راولی ماته دوی تول، بیشکه دغه الله جل‌جلاله هم دی دی ښه عالم (په پټو او ښکاره ؤ) ښه حکمت والا(چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی).

**تفسیر:** د ﴿فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ﴾ ترجمه مفسرینو په څو دوله (قسمه) سره کړی ده چه هغه دلته لیکله

کیږي
(۱): «پس ماته هغه صبر پکار دی چه هیڅاته به څه نه وایم».
(۲): «نو صبر زما ښه صبر دی».
(۳): «نو اوس هم دغه صبر زما په کار راځي»
(٤): «نو اوس له هم دغه صبر ښخه زما کار جوړیږي».
(٥): «پس صبر دی ماته ښه».
(٦): «پس ښائي ماته صبر نیک»
(۷): «پس کار زما صبر ښه دی».
(۸): «پس کار زما صبر ډیر ښه دی». د اول ځلی د بې‌اعتباری له امله (له وجې) دا ځلی هم یعقوب علیه السلام د خپلو ځامنو پر خبرو اعتبار ونه کړ. لیکن د نبی الله کلام کله دروغ کیدی شي ـ ځکه چه په واقع سره دغه خبری د ده ځامنو له خپله ځانه جوړی کړی ـ او پخپله یوسف هم د ده ځوی ؤ. کذا فی الموضح. ګواکی د «لکم» خطاب د ځامنو د جنس په لوری وشو. والله عالم. ځینو مفسرینو د دی مطلب داسی لیکلی دی چه تاسی دلته د هغه د ساتنی ځومره کلکی وعدی راسره وکړی ـ او په ډیر اصرار سره مو هغه بوتلو او هلته مو د هغه له لوری هیڅ دفاع او خبره ونه کړه، او ومو نه ویل چه د هغه له اسبابو ښخه د جام پیدا کیدل ځرنګه د هغه د غلا دلیل کیدی شي ـ کیږی چه بل چا هغه جام د ده په اسبابو کښی پټ کړی وی نو د دغی خبری ویل ضروری ؤ تاسی خو پخپلی دغی وینا سره چه د ده هغه بل وړور هم غلا کړی وه، نو د هغه جرم مو لا کلک کړ ـ که د تاسی په زړونو کښی ضد او عناد نه وی، نو دغه خبره به مو ولی ویله؟ اوس له بنیامین ښخه راغلی او ماته له ځانه خبری جوړوی؟ په هر حال زه په دی باندی هم صبر کوم ـ او د شکایت هیڅ یوه خبره به له ژبی ونه باسم ـ د پاک الله له قدرته او رحمته هیڅ لری نه دی چه یوسف علیه السلام او (بنیامین) او هغه وړور چه د (بنیامین) له خاطره هلته پاتی دی ګرد (تول) ماته راولی ـ او تول سره راتول کړی شي ـ او زه د ګردو (تولو) له احواله باخبره شم پا ک الله له تولو امورو ښخه ښه عالم ـ او له هر یوه سره سم له خپله حکمته سره معامله کوی. له دی نه اندازه کیدی شي ـ چه په هر قسم مأیوسی ـ او په هر دول (طریقه) احوال سره هم د انبیاؤ علیهم السلام قلوب نه بی هیلی (نا امیده) کیدی شي ـ او دوی تل د الله تعالیٰ پر واسع رحمت توکل او اعتماد کوی ـ او د ده له الطافه او اعطافه او احسانه او منته امیدوار وی.

وَتَوَلَّىٰ عَنۡهُمۡ وَقَالَ يَٰٓأَسَفَىٰ عَلَىٰ يُوسُفَ وَٱبۡيَضَّتۡ عَيۡنَاهُ مِنَ ٱلۡحُزۡنِ فَهُوَ كَظِيمٞ ٨٤

او مخ وګرځاوه (یعقوب) له دغو(ځامنو خپلو) نه او وی ویل او افسوسه او غم زما پر(بیلتون د) یوسف راشه دغه د وقت دی) او تکی سپینی شوی دواړه سترګی د دغه (یعقوب) له غمه نو دی ډک ؤ له قهره(او پټ ئی ځغموونکی ؤ.)

---

**تفسیر:** د دی نوی زخم له رسیدلو څخه د ده هغه پخوانی زخم بیا تازه شو - او بیاختیاره ئی له خولی څخه دا چغه ووتله ﴿ يَٰٓأَسَفَىٰ عَلَىٰ يُوسُفَ ﴾ - های افسوس پر یوسف» یعنی ای افسوسه زما پر یوسف راحاضر شه دغه دی وقت دی او تکی سپینی شوی دواړه سترګی د یعقوب علیه السلام له غمه یعنی بیرونقه یا بینوره شوی. **على اختلاف القولين**. پس دغه یعقوب ډک ؤ په زړه کښی د قهره د ځامنو نه خو وئ ځغملو او پټ ئی وساتلو په حدیث کښی دی «**نحن معاشر الانبياء اشد بلاء ثم الامثل فالامثل**» یعنی د انبیاؤ جماعت د پاک الله له جانبه په ډیرو سختو امتحانونو کښی مبتلا کاوه شی - بیا د امتحانونو ډیر اقسام دی حق تعالیٰ هر نبی سم له خپله حکمت او د ده له استعداد سره سم په هر امتحان سره ئی چه اراده وفرمائی اخته او مبتلا کوی ئی.

د یعقوب علیه السلام په زړه کښی ئی د یوسف علیه السلام فوقالعاده مینه وغورځوله - بیا داسی یوه - هښیار - محبوب - او مطلوب هلک ئی چه د ابراهیمی کورنی غته سترګه او رنه ډیوه وه، په داسی یوی دردناکی طریقی سره له ده څخنی بیل کړ - او سره له دی نه چه د یعقوب علیه السلام غم ویشتلی ځیګر - او زخم خوړلی تتر - او پرهاری زړه دغی روح وژونکی صدمی خوړلی وو، خو بیا هم ده نه د کوم مخلوق په مخ کښی څه وویل، او نه ئی د شکایت کوم حرف په ژبه راوړ، او نه له چا څخه د انتقام اخیستلو - او د خپل زړه تشولو په فکر کښی ؤ - او نه د غم او خفګان خبری به ئی له خولی څخه وتلی - هو کله چه دی د غم او اندیښنی له لاسه ډیر کړیده او ویلی کیده، نو د ده د زړه بخار د سترګو له لاری ووت، او له خپله ځانه سره به ژړیده. تر شلهاؤ کلونو پوری دی سره له دغو ژړیدونکو سترګو او د پاخه زړه د خپلو فرائضو او حقوقو په اداء کښی مشغول او لګیا ؤ او له ده هیڅ یو خلل او بی انتظامی په هیڅ شی کښی واقع نه شوه په هره اندازه چه د ده زړه یوسف علیه السلام په فراق کښی پخسیده، او له سترګو څخه ئی اوښکی توئیدلی، ده به هومره د پاک الله په دربار کښی د عجز او نیاز، او توبی او استغفار اظهار کاوه. د درد او غم شدت - او د اوښکو توییولو کثرت هومره چه د ده «بصارت» ضعیف کاوه، په همغی اندازی سره د ده د «بصیرت» نور به لا پسی زیاتیده - د بیتابیو او د اضطراباتو هغومره سخت طوفانونه چه پری راچلیده - ده به هومره خپل زړه تینګاوه او پر خپل ځیګر (ینه) به ئی پښه کیښوده - او له ژبی څخه به ئی تش یو «اف» هم نه ایسته. د (بنیامین) له بیلتون څخه کله چه پخوانی زخم (تپ) ته نوی درد او بریښ ورسیده، نو دلته بیاختیاره هم دغه د ﴿ يَٰٓأَسَفَىٰ عَلَىٰ يُوسُفَ ﴾ - ای افسوسه او غم زما په بیلتون د یوسف»

الفاظ ئې له ژبې ووتل. د حضرت شاه صاحب په قول «داسې یو سخت درد تر دومره اوږده مدت پورې ساتل، پرته (علاوه) له نبې علیه السلام څخه د بل هیچا له وسه نه دی پوره او نه ئې شي ساتلې» بیا چه ځامنو د یعقوب علیه السلا م د خپل پلار پریشانې او اضطراب ولید نو

قَالُوْا تَاللّٰهِ تَفْتَؤُا تَذْكُرُ يُوْسُفَ حَتّٰى تَكُوْنَ حَرَضًا اَوْ تَكُوْنَ مِنَ الْهٰلِكِيْنَ ﴿۸۵﴾ قَالَ اِنَّمَآ اَشْكُوْا بَثِّيْ وَحُزْنِيْٓ اِلَى اللّٰهِ وَاَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۸۶﴾

ووېل (ځامنو د یعقوب پلار خپل ته) قسم دی پر الله چه همیشه ئې ته چه یادوې یوسف (په زارې او فریاد سره) تر هغه پورې چه شې ته قریب الموت (ناجوړ له ډېره غمه) یا شې ته له هلاک شوو نه ووېل (یعقوب) بېشکه هم دا خبره ده چه شکایت کوم (او ژاړم د لوې او واړه) غم (او اضطراب) او خفګان خپل طرف د الله ته (یوائځې) او پوهېږم زه له جانبه د الله په هغه چه تاسې پرې نه پوهېږئ (لکه حیات د یوسف)

**تفسیر:** په «موضح القران» کښې راغلې دي «آیا تاسې ماته صبر راښیئ؟ بې صبره خو هغه څوک دی چه د مخلوق په مخ کښې د خالق د رالېږلې شوې درد شکایت وکړې زه خو له هغه سره مناجات کوم چه درد او رېړ (تکلیف) ئې راکړی دی ـ او پر دې هم ښه پوهېږم چه یوسف علیه السلام ژوندی دی ـ او ضرور به ورسره وینم. او د ده هغه لیدلې خوب هرومرو (خامخا) پوره کیدونکې دی دغه زما ابتلاء او ازموینه ده ـ و به ګورم چه تر کومه حده پورې دغه ابتلاء ځندیږي (ایساریږي) ؟».

يٰبَنِيَّ اذْهَبُوْا فَتَحَسَّسُوْا مِنْ يُّوْسُفَ وَاَخِيْهِ وَلَا تَايْـَٔسُوْا مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ ۭ اِنَّهٗ لَا يَايْـَٔسُ مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ اِلَّا الْقَوْمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۸۷﴾

ای ځامنو زما، لاړ شئ نو لټونه وکړئ له (حاله د) یوسف او له حاله د وررور د ده او مه نااميده کيږئ له فیضه د الله بېشکه شان دا دی چه نه نااميده کيږي له فیضه د الله څخه مګر قوم کافران (منکران له الله او صفاتو د الله).

**تفسیر:** یعني د الله تعالیٰ له مهرباني او فیضه نااميده كيدل د كافرانو دود (طریقه) دی چه هغوی د ده له لوی رحمت او كامل قدرت څخه صحیح معرفت نه لری. د یوه مسلمان كار دا وی چه كه د غرونو د پېتو په اندازه، او د سمندر د چپو او موجونو په قدر مأيوس كوونكي حالات هم وړپیښ شي خو بیا هم د پاک الله د رحمت امیدوار اوسی ـ او په امكاني كوښښ كښې بی‌همتي او بی‌زړه‌توب نه كوی نو ځئ د یوسف علیه السلام سراغ او پته ولګوئ او د ده ورور (بنیامین) د خلاصولو ذرائع ولټوئ ـ د الله تعالیٰ له رحمته هیڅ لری نه دی چه مونږ بیا سره راټول كړی د دریم ورور ذكر ئی ښایی د دی لامله (له وجی) ونه فرمایه چه هغه پخپل اختیار یواځی د بنیامین له سببه ستون (واپس) شوی ؤ كه بنیامین خلاص شی، نو هغه به بلا سببه ولی هلته پاتی كیږی.

(بیا ورونه د یوسف علیه السلام دریم كرت د یعقوب علیه السلام له حضوره سره له څه بضاعته او مكتوب مصر ته ورغلل).

فَلَمَّا دَخَلُوا عَلَيْهِ قَالُوا يَا أَيُّهَا الْعَزِيزُ مَسَّنَا وَأَهْلَنَا الضُّرُّ وَجِئْنَا بِبِضَاعَةٍ مُّزْجَاةٍ فَأَوْفِ لَنَا الْكَيْلَ وَتَصَدَّقْ عَلَيْنَا ۖ إِنَّ اللَّهَ يَجْزِي الْمُتَصَدِّقِينَ ﴿٨٨﴾

نو كله چه ورننوتل ورونه پر یوسف نو وویل دوی(یوسف ته) چه ای عزیزه، رسیدلی ده مونږ ته او اهل(عیال) زمونږ ته سختی(او لوږه) او راوړی ده مونږ پنگه (سرمایه) ناقصه نو پوره راكړه مونږ ته پیمانه او خیرات وكړه پر مونږ(په قبول د نقصان یا تزئید د احسان) بیشكه چه الله جزاء(بدل د دارینو وركوی خیرات وركوونكو ته.

**تفسیر:** دوی سم د خپل پلار له ښوونی سره د مصر په لوری بیا روان شول، څرنگه چه د یوسف علیه السلام درک او پته نه وه معلومه، نو ړومبی د هغه چا(بنیامین) د نجات په فكر كښی ولویدل چه ځای ئی معلوم ؤ او څرنگه چه د قحط له سببه غلی ته هم د دوی ډیر ضرورت ؤ نو داسی ئی سره وټاكل (مقرر كړل)، ښائی چه عزیز ته په دی لوری هم توجه وركړو ـ كه د راكړه او وركړه په معاملو كښی مو عزیز پوست او نرم وموند، نو د (بنیامین) په نسبت به هم ورسره خبره كوو لكه چه ړومبی خبری دوی له عزیز سره داسی وكړی

ای عزیزه، په دی ورځو كښی د قحط له سببه پر مونږ او زمونږ پر كورنی ډیر زیات تكلیف او زحمت تیریږی زمونږ د كورونو مال او اسباب گرد (ټول) وپلورل (خرڅ) شول ـ اوس ډیره لږه بیكاره او حقیره پنگه (سرمایه) پاتی ده چه هیڅوک ئی نه اخلی هغه مو د غلی پیرودلو

(اخستلو) دپاره له ځان سره راوړی ده ستا د ښو اخلا قو، له لویو مکارمو او له پخوانیو مهربانیو څخه هیله (امید) لرو چه زمونږ دغو ناقصو شیانو ته مه ګورئ، او د دغو لږو شیانو په بدل کښې د پخوا پشان د غلی پوره مقدار مونږ ته امر وکړئ چه را ئې کړی، دغه رعایت په حقیقت کښې یو راز (قسم) خیرات دی چه تاسی ئې پر مونږ کوئ، برسیره په دی د خیرات په توګه (طریقه) هم څه شی راکړئ چه الله تعالیٰ درسره ښه وکړی،
حضرت یوسف علیه السلام د دغه احوال له اوریدلو څخه بې‌اختیاره په ژړا شو ـ او د ده د شفقت ـ رحم ـ عنایت او زړه سوی چینه د ده له زړه څخه وخوتیده او د سترګو له لاری په بهیدلو شوه او په دغه وقت کښې د پاک الله په حکم سره ده خپل ځان دوی ته ورښکاره کړ ـ چه زه څوک یم؟ او تاسی چه کومه معامله له ما سره کړی وه وروسته له هغې زه اوس کومې مرتبې ته رسیدلی یم؟ وروستی آیت د دغه اظهار دپاره تمهید دی.
**تنبیه:** ځینو د«تصدق» معنی مطلق احسان اخیستی دی. لکه چه د **«قصر الصلوٰة»** په حدیث کښې دی **«صدقة تصدق الله بهاعلیکم»**
( کله چه یوسف علیه السلام د خپل پلار کاغذ ولوست او د خپلو ورونو دغه عاجزی او زاری ئې ولیدلی نو لکه چه پخوا مو ولیکل ژړا پری زور راوست او رحم پری غالب شو او طاقت د پټولو ورته پاتې نشو نو)

---

**قَالَ هَلۡ عَلِمۡتُم مَّا فَعَلۡتُم بِيُوسُفَ وَأَخِيهِ إِذۡ أَنتُمۡ جَٰهِلُونَ ﴿٨٩﴾**

---

وویل(یوسف علیه السلام ورونو خپلو ته) آیا پوهیږئ تاسی چه څه فعل کړی ؤ تاسی له یوسف او له ورور د ده سره (چه خوار، زار او رټلی مو ساته) کله چه تاسی ناپوهان وئ (له عاقبت د فعل خپل).

---

**تفسیر:** یعنی د دی دواړو په منځ کښې مو بیلتون (جدائی) وغورځوله او له دغو دواړو سره مو ضد او عناد وکړ په هغه وقت کښې چه تاسی ناپوهان وئ، یعنی د ځلمیتوب په نشو کښې بی سده (بی هوشه) وئ او بی التفاته له قباحته د دی فعل ـ یا له عقوقه د پلار خپل او له حقوقه د ورورولئ او دا ئې په طریقه د نصیحت ورته ویل نه دپاره د راښکلو او شرمولو الله اکبر، دغه د صبر او مروت او اخلاقو ډیره لوړه (اوچته) مرتبه ده چه د دغه تول عمر د ربړو (تکلیفونو) او شکایتونو دپاره یو توری ئې هم پخپله ژبه را نه وړ او دومره سوال ئې هم د دی لامله (له وجی) وکړ، څو دوی پخپلو زړونو کښې شلهاؤ کلونو پخوانی احوال یو ځلی مستحضر کړی، چه د ماضی او حال موازنې څخه د الله تعالیٰ د هغو احساناتو حقیقت ښه روښانه شی چه پر یوسف علیه السلام له هغو مصائبو او حوادثو څخه وروسته شوی دی، او د هغه په لوری وروسته په ﴿قَدۡ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَيۡنَآ﴾ کښې اشاره شوی ده ـ بیا د سؤال اسلوب ئې داسی نرم او لطیف اختیار کړی

دی چه په هغه کښې له جرمه زیات د مغفرت خوا، خورا (ډیر) ښکاره ده یعنی هغه حرکت چه ستاسی څخه صادر شوی دی د ناپوهی او بیوقوفی لامله (له وجې) ؤ ـ تاسی ته کله دغه خبره معلومه ده چه د یوسف علیه السلام هغه خوب هرومرو (خامخا) پوره کیدونکی دی، او دغه هلال خامخا یوه ورځ د بدر په شکل راختونکی دی او سم له دی ویلو سره ئی پرده له مخه بیرته کړه ـ کله چه د دوی نظر پری ولګیده او وئ پیژاند نو

قَالُوٓا۟ أَءِنَّكَ لَأَنتَ يُوسُفُ ۖ قَالَ أَنَا۠ يُوسُفُ وَهَٰذَآ أَخِى ۖ قَدْ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَيْنَآ ۖ إِنَّهُۥ مَن يَتَّقِ وَيَصْبِرْ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٩٠﴾

وویل (ورونو د یوسف) آیا بیشکه ته چه ئی خامخا دا ته ئی یوسف وویل (هو!) هم دا زه یم یوسف او دغه (بنیامین) می سکه ورور دی په تحقیق احسان فرمایلی دی الله پر مونږ باندی (په سلامت او کرامت) بیشکه شان دا دی هر څوک چه وویریږی له الله او صبر وکړی (په طاعت او مصیبت او له معصیت) نو بیشکه الله نه ضائع کوی اجر (بدل عوض) د نیکو کارانو.

**تفسیر:** ممکن دی چه له دغه سوال څخه دوی ډیر سخت ویریدلی وی ـ چه وروسته له دومره زیاتی مودی څخه دغه د کور پته خبره چا ورڅرګنده (ښکاره) کړی ده بیا د مصر عزیز د یوسف علیه السلام له قصی سره څه کار لری؟ څرنګه چه دوی د یوسف علیه السلام فوقالعاده مراحم او له (بنیامین) سره ئی خصوصی سلوک لا له پخوا څخه لیدلی وو، نو دغه سوال به دفعتاً د دوی اذهان دغه لوری ته منتقل کړی وی ـ چه نه یوسف علیه السلام به چه مونږ پر مصری کاروان پلورلی (خرڅ کړی) ؤ هم دغه وی ـ کله چه دغه لوری ته متوجه شوی وی نو په غور سره به ئی کتلی وی او ممکن دی چه دا ځلی یوسف علیه السلام هم خپل ځان په واضح دول (طریقه) سره دوی ته ورواندی کړی وی ـ یا ئی تصریحاً ویلی وی چه زه یوسف علیه السلام یم، الغرض چه دوی سخت متعجب او حیران شول او په حیرت سره ئی پوښتنه وکړه « ﴿ أَءِنَّكَ لَأَنتَ يُوسُفُ ﴾ ـ رښتیا اوښیه آیا هم دا ته یوسف ئی ؟» نو وویل یوسف علیه السلام چه هو! په رښتیا سره هم دا زه یوسف یم او دغه می سکه ورور دی (بنیامین) یعنی له هغه څخه چه تاسی زه بیل کړی وم دا دی اوس له ما سره ناست دی.

(په تحقیق منت او احسان بار کړی دی الله تعالیٰ پر مونږ باندی چه پس له اتیا کاله بیا ئی سره یو ځای کړو او همغه الله بیلتون په ګډون ـ ذلت په عزت ـ تکلیف په راحت ـ تنګی په فراخی ـ طیش په عیش بدلوی ـ هغه ته چه د مریی په نامه په څو پیسو خرڅ شوی ؤ نن پاک الله د مصر حکومت وربښلی دی،او بیشکه شان دا دی هر څوک چه ویریږی له الله او صبر کوی په

طاعت او مصیبت او له معصیت پس بیشکه الله نه ضائع کوی اجر بدل عوض د نیکو کارانو حضرت شاه صاحب لیکی «پر هر هغه چه تکلیف واقع شو ـ او له شرعی حدودو څخه د باندی ونه ووت او ونه ویرید نو بالاخر له بلا څخه زیاته عطا ورکوله کیږی بیا چه ورونو یوسف علیه السلام وپیژندلو ـ نو هیبت او خجالت پر دوی غالب شو ـ نو

قَالُوا تَاللّٰهِ لَقَدْ اٰثَرَكَ اللّٰهُ عَلَيْنَا وَاِنْ كُنَّا لَخٰطِئِيْنَ ﴿٩١﴾

وویل(ورونو د یوسف هغه ته) قسم دی پر الله خامخا په تحقیق غوره کړی ئی ته الله پر مونږ(په صورت او سیرت) او بیشکه چه وو مونږ خامخا له خطا کوونکو(په هغه عمل کښی چه کړی ؤ مونږ له تا سره).

**تفسیر:** یعنی الله جل‌جلاله تاته له هر حیثیته پر مونږ درجه او فضلیت درکړی دی ـ ته د هم دی مقام وړ (قابل) او لائق وی ـ مونږ له خپلی غلطی او تیری ستا قدر ونه پیژنده بالاخر ستا خوب رښتیا او زمونږ حسد او رخه (کینه) بیکاره ښکاره شوه.

قَالَ لَا تَثْرِيْبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ يَغْفِرُ اللّٰهُ لَكُمْ وَهُوَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿٩٢﴾

وویل(یوسف ورونو خپلو ته) نشته هیڅ ملامتی (زور او نه الزام له جانبه ځما) پر تاسو نن ورځ مغفرت دی وکړی الله تاسی ته (چه مقر شوئ په ګناه خپلی) او هم دی دی ښه غوره مهربان د تولو مهربانی کوونکو.

**تفسیر:** یوسف علیه السلام له سره داسی اراده نه درلوده (لرله) چه دومره یوه خبره هم له خپلو ورونو څخه واوری، نو وئ فرمایل چه دغه تذکری مه کوئ! زه نن پر تاسو هیڅ ملامتی نه اړوم او ستاسی ګرد (تول) اغلاط می دربښلی دی ـ هغه لفظ چه ما ووایه یواځی د الله تعالیٰ د احسان او د صبر او تقویٰ د نتیجی د ظاهرولو په نیت سره می ووایه، وروسته له نن ورځی ستاسی د تقصیر ذکر به هم نه کیږی. زه دعا کوم چه پاک الله ستاسی دغه خطاوی چه کړی مو دی در وبښی، ځکه چه هغه ډیر مهربان دی له تولو مهربانی کوونکو او دغه ځما مهربانی هم یوه پلوشه ده د ده د مهربانیو څخه.

څوک چه عجز د مولا په در کښی راوړی
اعتراف پخپل تیر شوی قصور راوړی
رب له تولو مهربانو زیات ارحم دی
په هغه چه په اخلاص له بدو واوړی

کله چه یوسف علیه السلام د خپلو ورونو د تسلی او ډاډګیرنی څخه وزګار شو نو د خپل مهجور او سپین ږیری پلار له حال څخه ئی هم تپوس او پوښتنه وکړه چه څرنګه دی؟ دوی وویل چه له ډیری ژړا سترګی ئی ړندی شوی دی. نو یوسف علیه السلام دوی ته وویل

اِذْهَبُوْا بِقَمِيْصِيْ هٰذَا فَاَلْقُوْهُ عَلٰى وَجْهِ اَبِيْ يَاْتِ بَصِيْرًا ۚ وَاْتُوْنِيْ بِاَهْلِكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٩٣﴾

یوسئ قمیص زما دغه(قمیص) نو واچوئ هغه پر مخ د پلار زما نو وبه ګرځی بیا لیدونکی او راشئ تاسی ماته سره له اهله خپل تول.

**تفسیر:** یعنی زه په موجوده حالت کښی د شام په لوری نشم درتلی ـ تاسی لاړ شئ او والدین سره له تولو ګردو نورو متعلقینو می دلته راولئ ځکه چه ډیر مدت پر مونږ او تاسی باندی غمونه او مشقتونه تیر شوی دی ـ نو اوس له خیره سره دلته راشئ چه له ما سره لږ څه معاش وګورئ او مونږ ګرد (تول) سره یو ځای شو او یو د بل له وصاله او ګډون څخه متمتع او ګټور شو څرنګه چه د خپل لوی پلار په نسبت د وحیی په وسیله، یا د ورونو له بیانه دا ورمعلومه شوی وه چه بصارت ئی نه دی ورپاتی ـ یا ئی په لیدلو کښی څه فرق پیدا شوی دی ـ نو ځکه ئی خپل قمیص ورکړ، او وئی فرمایل چه دا قمیص ځما چه جبرئیل علیه السلام له جنته راوړی ؤ له ځان سره یوسئ او ځما د پلار په سترګو ئی ومښئ نو بیا به ئی بصارت پخپل حالت راشی. حضرت شاه صاحب لیکی «د هر مرض دپاره الله تعالیٰ یوه دوا مقرره کری ده، څرنګه چه د ده بصارت د یوه سړی له بیلتون څخه تللی ؤ ـ نو د هغه د بدن د یوه څیز له مونډلو څخه هغه بیرته روغ شو ـ دغه د یوسف علیه السلام کرامت ؤ» او که کرامت ئی ونه بولئ، نو بیا هم له نن ورځی د واقعاتو او مشاهداتو په بناء دغه خبره منلی شوی ده، چه د کومی سختی صدمی یا فوق العاده خوښی له اثره ځینی ړانده یو ناڅاپه د سترګو خاوندان شوی دی.کله چه یوسف علیه السلام خپل قمیص ورکړ او اسباب او خوراک د لاری ئی دپاره د پلار او د نورو متعلقانو تیار کړ او ورونو ته ئی وسپارل نو دوی د کنعان په جانب متوجه شول.

وَلَمَّا فَصَلَتِ الْعِيْرُ قَالَ اَبُوْهُمْ اِنِّيْ لَاَجِدُ رِيْحَ يُوْسُفَ لَوْلَآ اَنْ تُفَنِّدُوْنِ ﴿٩٤﴾

او كله چه بيا جلا (جدا) شو كاروان (له مصره) وويل پلار د دوى (يعقوب خپلو مصاحبينو ته په كنعان كښې) بيشكه زه چه يم خامخا مومم بوى د يوسف كه چيرى نسبت د كم عقلى(د زوړوالى) نه كوئ ماته.

**تفسير:** د الله تعالىٰ قدرت ته ګٔير شئ (غور وكړئ) چه يوسف عليه السلام په مصر كښې موجود دى ـ او يعقوب عليه السلام په كنعان كښې ـ خو په دومره كلونو كښې هيچيرى يعقوب عليه السلام ونه ويل چه د يوسف عليه السلام ښه ورمه رارسيږى ـ ځكه چه د پاك الله امتحان لا پاى (آخر) ته نه ؤ رسيدلى ـ اوس چه د پاك الله اراده د ده بللو ته غوټه شوى ده، او له هغه لورى كاروان له مصره د كنعان په لورى روان دى ـ او د يوسف عليه السلام قميص ورته سوغات او ارمغان دى، دلته د يوسفى قميص ښه ورمه يعقوب عليه السلام روح معطره كوى دا يوه واقعه لا څه ـ بلكه دغه ګرده (توله) قصه د قدرت د عجائبو يوه لويه مرقع ده، د يعقوب عليه السلام پشان يو مشهور معروف نبى عليه السلام په شام كښې هستوګنه ولرى ـ او د يوسف عليه السلام پشان يو جليل القدر ذات په مصر كښې حكومت وچلوى او يوسف عليه السلام ورونه څو ځلى مصر ته راشى، او پخپله د يوسف عليه السلام كره ميلمانه شى، او سره له هغه د الله قدوس جل‌جلاله غامضه حكمت او قاهره مشيت، دغه پلار او ځوى سره تر شلهاؤ كلونو پورى بيل وساتى، او د وينى په اوښكو ئى وژړوى، او خپل امتحان پرى تكميل كړى جلت قدرته! وعز سلطانه‌لپه هر تقدير نو وويل پلار د دوى يعقوب عليه السلام هغو حاضرينو ته چه په كنعان كښى ورسره ناست وو چه بيشكه خامخا زه مومم بوى د يوسف عليه السلام كه نسبت د كم عقلى نه كوئ تاسى ماته او داسى راته نه وايئ چه ته اوس زوړ شوى ئى ـ نو فضول او چټى (بيكاره) خبرى كوى يعنى د دغى خبرى په ويلو سره شرميږم، ځكه چه د هغه پر كيفيت ستاسى فكر نه رسيږى او تاسى ګرد (تول) به سره ووايئ چه دغه سپين ږيرى ته وګورئ چه بيخى بى سده (بيهوشه) او پاګل شوى دى او اپلتى وائى او چټى (بيكاره) خبرى كوى او د زړبودى (بوداتوب) خوبونه وينى.

قَالُوا تَاللّٰهِ اِنَّكَ لَفِىۡ ضَلٰلِكَ الۡقَدِيۡمِ ﴿٩٥﴾

وويل(حاضرينو يعقوب ته) قسم دى پر الله بيشكه ته چه ئى خامخا په همغه خطا او سرګردانى پخوانى خپلى كښى(همغسى لا پروت) يى.

**تفسير:** يعنى د يوسف عليه السلام مينه او محبت ـ او د هغه د بيا ژوندى كيدلو ـ او بيا ورسره د ليدلو او ملاقات كولو يقين ستا په زړه كښى ځاى نيولى دى او د همغو پخوانيو خيالاتو هوا ده چه د يوسف عليه السلام ښه ورمه ستا دماغ (سپږمو) ته رسيږى او له ډيره محبته

او مینی ئی هر وقت یادوی ـ او د ملاقات په طمعی ئی لا هم پروت ئی

فَلَمَّآ أَن جَآءَ ٱلۡبَشِيرُ أَلۡقَىٰهُ عَلَىٰ وَجۡهِهِۦ فَٱرۡتَدَّ بَصِيرٗاۖ قَالَ أَلَمۡ أَقُل لَّكُمۡ إِنِّيٓ أَعۡلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٩٦﴾

نو کله چه راغی زیری کوونکی نو واچوه ده هغه (قمیص) پر مخ د دغه (یعقوب) باندی نو وگرځیده (یعقوب) لیدونکی، وویل(یعقوب) آیا نه ؤ ویلی ما تاسی ته چه، بیشکه زه پوهیږم له(ښوونی د) الله په هغه څه چه نه پوهیږئ تاسی (چه حیات او ملاقات د یوسف او د نورو دی).

**تفسیر:** یعنی بینائی او لیدل ئی بیرته وگرځیدل ـ او بیا لکه د پخوا هر شی به ئی لیدلو ـ او بینا شو نو وویل یعقوب علیه السلام هغو خلقو ته چه ملامتی ئی پری ویلی وه آیا نه ؤ ویلی ما تاسی ته چه بیشکه زه پوهیږم له ښوونی د الله په هغه څه چه نه پوهیږئ تاسی چه حیات او ملاقات دی له یوسف علیه السلام او نورو سره یعنی ما نه ؤ ویلی چه ښه بوی راځی! بالاخر زما هغه خبره رښتیا شوه ـ یا ئی خپلو ځامنو ته ویلی ؤ چه د یوسف علیه السلام له لټولو څخه لاس مه اخلئ! د پاک الله له رحمته دغه خبره لری نه ده چه بیا مونږ گرد (تول) سره راتول کړی گورئ! چه همغه صورت را د مخه شو.

(بیا نو ورونه په اتفاق سره پلار ته ورغلل او په ډیری عاجزی او زاری سره)

قَالُواْ يَٰٓأَبَانَا ٱسۡتَغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَآ إِنَّا كُنَّا خَٰطِـِٔينَ ﴿٩٧﴾

وویل(ورونو د یوسف) ای پلاره زمونږ مغفرت وغواړه له الله زمونږ دپاره د گناهونو زمونږ بیشکه چه مونږ ؤ خطا کوونکی (گنهگاران ستا او د یوسف په حق کښی).

**تفسیر:** یعنی اوس توبه وښکله مونږ نو تاسی توجه او دعا وکړئ او له الله تعالیٰ څخه زمونږ د دی گناهونو ښښنه وغواړئ! چه له مونږه لویه خطا شوی ده. مطلب ئی دا دی چه ړومبی مو تاسی وبښئ بیا په صاف زړه او اخلاص سره له پاک الله څخه زمونږ مغفرت وغواړئ! ځکه خو چه تاسی مونږ ونه بښئ نو الله تعالیٰ به مو څرنگه وبښی.

قَالَ سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّيٓ ۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٩٨﴾

وویل (یعقوب ځامنو خپلو ته) ژر به مغفرت وغواړم تاسی ته له ربه خپله، بیشکه دغه (الله) هم دی دی ښه ښښونکی (د خطیاتو) ډیر رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره).

**تفسیر:** یعنی صبر وکړئ! چه د قبول ساعت او ګړئ راشی، نو هلته به زه د خپل مهربان الله په دربار کښی لاسونه پورته کوم. وائی د جمعی د شپی یا د تهجد د وقت په انتظار کښی ؤ یا ئی غوښت چه وروسته د یوسف علیه السلام د ښښلو یا وروسته له ورتللو د مصره چه هلته به تول په ګډه سره له الله تعالیٰ څخه غوښتنه کوو. بیا روان شول دوی مصر ته کله چه یوسف خبر شو نو سره له مشرانو د پلار استقبال ته ووتل

فَلَمَّا دَخَلُوا۟ عَلَىٰ يُوسُفَ ءَاوَىٰٓ إِلَيْهِ أَبَوَيْهِ وَقَالَ ٱدْخُلُوا۟ مِصْرَ إِن شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ ﴿٩٩﴾

نو کله چه راننوتل دوی پر یوسف علیه السلام په مانی او مجلس د یوسف علیه السلام نو رانژدی ئی کړل ځان ته مور او پلار خپل او وویل یوسف علیه السلام چه ننوځئ (ښار د) مصر ته که اراده وفرمائی الله حال دا چه په امن کښی به شئ ( له هری سختی) .

**تفسیر:** له ښاره د باندی د خپل مور او پلار د استقبال او هرکلی او ښه راغلی دپاره ووت خپل مور او پلا ر ته ئی له خپل ځان سره نژدی ځای ورکړ ـ په دی کښی مفسران سره اختلاف لری، ځینی وائی چه د یوسف علیه السلام مور لا له پخوا څخه مره شوی وه لکه چه پخوا مذکور شو ـ او دلته ئی د توری (خاله) ذکر دی ـ ځکه چه عرب توری ته هم مور وائی لکه چه تره ته هم پلار وائی ـ او ځینی وائی چه لا مور ئی (راحیله) هم ژوندی وه، او له حضرت یعقوب علیه السلام سره ئی مصر ته تشریف راوړ، او ګردو (تولو) ته ئی وویل چه ښار ته لاړ شئ، او له قحط او سختی او مشقت او نورو شیانو څخه اندیښنه مه کوئ انشاء الله تعالیٰ بالکل په زړه جمعی او راحت او اطمینان اوسیږئ! ځینی مفسرین وائی دغه الفاظ ئی وروسته د ښار له رسیدلو څخه ویلی دی. ګواکی د ﴿ ٱدْخُلُوا۟ مِصْرَ ﴾ معنی داسی شوه چه په مصر کښی بی له کومی وسوسی او اندیښنی اوسیږئ!.

وَرَفَعَ اَبَوَيْهِ عَلَى الْعَرْشِ وَخَرُّوْا لَهٗ سُجَّدًا ۚ وَقَالَ يٰۤاَبَتِ هٰذَا تَاْوِيْلُ رُءْيَايَ مِنْ قَبْلُ ۫ قَدْ جَعَلَهَا رَبِّيْ حَقًّا ؕ وَقَدْ اَحْسَنَ بِيْۤ اِذْ اَخْرَجَنِيْ مِنَ السِّجْنِ وَجَآءَ بِكُمْ مِّنَ الْبَدْوِ مِنْۢ بَعْدِ اَنْ نَّزَغَ الشَّيْطٰنُ بَيْنِيْ وَبَيْنَ اِخْوَتِيْ ؕ اِنَّ رَبِّيْ لَطِيْفٌ لِّمَا يَشَآءُ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ﴿۱۰۰﴾

او پورته ئی کړل مور پلار خپل( کښېنول له ځانه سره ) پر تخت خپل او پریوتل(دغه «۱۱» وروڼه او والدین) دغه(یوسف ته) سجده کوونکی، او وویل(یوسف ) ای پلاره زما دا(سجدی) بیان (تعبیر) دی د هغه خوب زما (چه لیدلی می ؤ) پخوا له دی نه په هلکتوب کښې په تحقیق وګرځاوه دا خوب رب زما حق (او رښتینی)، او په تحقیق احسان انعام ئی کړی دی له ما سره کله چه راوئ ایستم زه له بندیخانی ( یا کوهی نه) او را ئی وستئ تاسی له میری (صحرا نه مصر ته) وروسته له هغه چه فساد جګړه غورځولی وه شیطان په منځ زما او په منځ د وروڼو زما کښې، بیشکه رب زما چه دی باریک تدبیر والا دی دپاره د هغه چه اراده وفرمائی، بیشکه الله هم دی دی ښه عالم (په ټولو احوالو) ښه حکمت والا (چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی).

**تفسیر:** یوسف علیه السلام له خپل طرفه د خپلو والدینو تعظیم وکړ۔ او دوی پر خپل تخت (پلار) کښېنولو ۔ لیکن ځرنګه چه د پاک الله اراده پر دغه تللی وه چه د یوسف علیه السلام تعظیم به پر دوی کوی نو له هغه ځنی ممانعت د یوسف علیه السلام له لاسه کله پوره کیدی شو، نو سم د هغه وقت له دود (رواج) او دستور سره مور او پلار او ټول وروڼه د یوسف علیه السلام په مخ کښې په سجده ولویدل دغه تعظیمی سجده وه چه د حافظ عماد الدین ابن کثیر رحمة الله علیه له وینا سره د ادم علیه السلام له زمانی راهیسی د مسیح علیه السلام تر زمانی پوری جائزه وه، او یواځی محمدی شریعت هغه ناجائزه او حرامه وبلله ۔ لکه چه ډیر احادیث پری شهادت ورکوی. بلکه حضرت شاه عبد القادر رحمة الله علیه ﴿ وَاَنَّ الْمَسٰجِدَ لِلّٰهِ ﴾ الآیة ۔ ځخه د دی د حرمت په نسبت اشاره ایستلی ده، ځینو مفسرینو په دغه ځای کښې له سجدی ځنی د هغه متبادره معنی نه ده مراد کړی او تش سر ښکته کول او یواځی لږ ځه تیتیدل تری اخلی. ځینی وائی چه دغه سجده د یوسف علیه السلام دپاره نه وه، بلکه د یوسف علیه السلام له عظمت او

عزت لیدلو لامله (له وجی) د پاک الله په دربار کښې د شکر اداء کولو سجده وه نو په دغه تقدیر دغه لام به سببې وی چه په ﴿ وَخَرُّوا۟ لَهُۥ سُجَّدًا ﴾ کښې دی یعنی د یوسف علیه السلام د عروج او اقتدار په سبب د پاک الله په دربار کښې دوی د شکرانی سجدی وکړی.

**تنبیه:** تعظیم او عبادت دواړه سره بیل شیان دی. د غیر الله تعظیم په کلی ډول (طریقه) نه دی ممنوع هو! د غیر الله عبادت جلی شرک دی، چه د هغه اجازه د سترګو د یوی رپی په اندازه هم نشته، او نه کیدی شی. «**سجود العبادة**» یعنی د غیر الله مستقل او مالک ګڼل په نفع یا په ضرر کښې په هره درجه چه وی، او ورته سجده کول جلی شرک دی، چه د هغه اجازت په هیڅ یو سماوی شریعت او هیڅ یو موحد ملت دپاره نه دی شوی. هو! «**سجود التعظیم**» یعنی پرته (علاوه) له پاسنی عقیدی محض د تعظیم او تکریم دپاره سر په سجده کیدل په سابقه ؤ شرائعو کښې جائز ؤ ـ خو محمدیه شریعت علیٰ صاحبها افضل الصلوٰة والتسلیمات د هغه بیخ پری کړ ـ پر دغه موضوع حضرت شاه ولی الله په «حجة الله البالغه » کښې د شرک پر اقسامو کوم دقیق بحث چه کړی دی ـ د هغه کتل پکار دی

( ﴿ وَقَالَ يَٰٓأَبَتِ ﴾ الآیة ـ او وویل یوسف علیه السلام ای پلاره ځما دا سجدی بیان او تعبیر دی د هغه خوب زما چه لیدلی می ؤ پخوا له دی نه په هلکتوب کښې په تحقیق وګرځوه دا خوب رب ځما حق (رښتینی) یعنی په دی کښې زه هیڅ مداخله نه لرم څرنګه چه زما د هغه خوب د تعبیر پوره کیدل ضروری ؤ، نو پاک الله هغه پوره کړ ـ او تاسی ګردو (تولو) ته ئی دروښود او په تحقیق احسان ئی کړی دی له ما سره کله چه راوئی ایستم زه له بندیخانی یا له کوهی نه او راوئی وستئ تاسی له میری او صحرا نه مصر ته وروسته له هغه چه فساد جګړه غورځولی وه شیطان په منځ ځما او په منځ د ورونو ځما کښې بیشکه رب ځما باریک تدبیر والا دی لپاره د هغه چه اراده وفرمائی بیشکه دغه الله هم دی دی ښه عالم په تولو احوالو ښه حکمت والا چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی. د الله تعالیٰ د احساناتو ذکر ئی وفرمایه او د ده هغه لطیف تدبیر ته ئی توجه وکړه چه الله زه په څه لطیف ډول (طریقه) له بندیګری څخه وویستم، او د دی مملکت مختار عزیز ئی وګرځولم ـ او د هغی جګړی څخه وروسته چه د شیطان له لوری زمونږ ورونو په منځ کښې لویدلی وه کله چه هیڅ هیله (طمعه) او امید زمونږ او ستاسی د بیا لیدلو نه وه ـ بیا ئی څرنګه د لیدلو او سره د یو ځای کیدلو اسباب او وسائل راغونډ کړل ـ په دغی موقع کښې یوسف علیه السلام د خپلو هغو مصائبو تکالیفو هیڅ یو شکایت او ذکر ونه کړ ، چه پری تیر شوی ؤ ـ بلکه د ورونو د واقعی په لور یی هم په داسی یوه عنوان سره اشاره وکړه چه په هغه د هیڅ یوی ډلی تقصیر او زیادت ورڅرګند (ښکاره) نشو ـ څو د ده ورونه د هغه له اوریدلو څخه خجل، محجوب او خړ نشی «الله اکبر!» داسی عالی اخلاق پرته (علاوه) له انبیاؤ علیهم السلام په بل کوم یوه کښې پیدا کیدی شی؟.

رَبِّ قَدْ اٰتَيْتَنِيْ مِنَ الْمُلْكِ وَعَلَّمْتَنِيْ مِنْ تَاْوِيْلِ الْاَحَادِيْثِ ۚ فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۫ اَنْتَ وَلِيّٖ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۚ تَوَفَّنِيْ مُسْلِمًا وَّاَلْحِقْنِيْ بِالصّٰلِحِيْنَ ﴿١٠١﴾

ای ربه زما په تحقيق راكړی دی ده ماته څه له باچاهی (او تصرف د مصر) او ښوولی دی دی ماته څه له ګرځولو د خبرو (لكه تعبير د خوبونو بيان د كتابونو)، ای پيدا كوونكيه د اسمانونو او د ځمكی (بی له نمونی) هم ته ئی ولی (دوست واكدار كار جوړوونكی) زما په دنيا او په آخرت كښی، وفات كړه ما په دی حال كښی چه مسلمان يم او يو ځای می كړه (په مرتبه او كرامت كښی) له صالحانو سره.

**تفيسر:** د دی سورت په اوله ركوع د تاويل الاحاديث تفسير ليكلی شوی دی. يا خو ئی د لقاء الله په شوق كښی فی‌الحال د موت تمنا وكړله - يا خو دا مطلب دی كله چه زه مرم ښائی چه موت په داسی حال كښی راباندی راشی چه زه په اسلام يعنی كامل تسليم او رضاء قائم اوسم.

**تنبيه:** په حديث كښی راغلی دی چه «هيڅ يو انسان دی د مصيبت او تكليف له ويری د موت تمنا نه كوی»! له دی نه داسی مفهوميږی چه د حب لقاء الله يا بل كوم صالح غرض دپاره د موت تمنا كيدی شی. لكه چه د فرعون ساحرينو داسی دعا كړی وه ﴿ رَبَّنَآ اَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَّتَوَفَّنَا مُسْلِمِيْنَ ﴾ يا حضرت مريمی ويلی ؤ ﴿ يٰلَيْتَنِيْ مِتُّ قَبْلَ هٰذَا وَكُنْتُ نَسْيًا مَّنْسِيًّا ﴾ جزء (۱٦) د مريم سورة ركوع ۲ آيت (۲۳) - او د معاذ رضی الله تعالیٰ عنه په حديث كښی دی **«اذا اردت بقوم فتنة فاقبضنی اليک غير مفتون».**

د احمد په مسند كښی حديث دی **«يكره الموت والموت خير للمؤمن من الفتن».**

حضرت علی كرم الله وجهه د فتن د هجومو په وقت كښی دعا كړی وه **«اللّٰهم خذنی اليک فقد سئمتهم وسئمونی»** كله چه د امام بخاری جګړه د خراسان له امير سره ونښتله نو دی داسی دعاء كولو ته مجبور شو **«اللّٰهم توفنی اليک»** په حديث كښی دی چه د دجال د خروج په وقت كښی يو سړی به پر كوم قبر تيريږی، او د دغو فتنو او زلازلو له ليدلو څخه به ووائی **«يا ليتنی مكانک**- كشكی ای مړيه! زه ستا په ځای وی».

(﴿ وَّاَلْحِقْنِيْ بِالصّٰلِحِيْنَ ﴾ - او يو ځای می كړه په مرتبه او كرامت كښی له صالحانو سره) دغه داسی لفظ دی لكه نبی كريم عليه افضل الصلوٰة والتسليم چه پخپل مرض‌الموت كښی فرمايلی ؤ **«اللّٰهم فی الرفيق الاعلیٰ»** حضرت شاه صاحب ليكی «كامل علم ئی وموند - او كامل دولت ئی ور په برخه شو نو بيا ئی شوق او رغبت پيدا شو چه د خپلو پلرونو او نيكونو په مراتبو هم ورسيږی» ګواكی له ﴿ وَّاَلْحِقْنِيْ بِالصّٰلِحِيْنَ ﴾ څخه دا غرض شو چه زما مرتبه د اسحاق عليه السلام او د ابراهيم عليه السلام له مراتبو سره يو ځای كړه! د حضرت يعقوب عليه السلام

تر ژوندانه پورې يوسف عليه السلام په ملكيه ؤ انتظاماتو مشغول ؤ وروسته د هغوى له وفاته ئې هغه پخپل واک (اختيار) پرېښود. مفسرين ليكي چه حضرت يعقوب عليه السلام وصيت كړى ؤ ـ چه زما مړى دې شام ته يوړې شي ـ او هلته دې دفن كړ شي! لكه چه د دوى جنازه هم هغلته يوړه شوه. حضرت يوسف عليه السلام ويلي ؤ چه «يوه داسې زمانه به هم راشي چه بنى‌اسرائيل به له مصر څخه وويستل شي ـ نو په دغه وقت كښې دې زما تابوت هم دوى له خپله ځانه سره يوسى» لكه څه مهال (وخت) چه حضرت موسىٰ عليه السلام سره له بنى اسرائيلو له مصره ووت، نو د حضرت يوسف عليه السلام تابوت ئې هم له خپلو ځانونو سره يووړ. والله اعلم.

ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهِ اِلَيْكَ ۚ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ اِذْ اَجْمَعُوْٓا اَمْرَهُمْ وَهُمْ يَمْكُرُوْنَ ﴿۱۰۲﴾

دغه (قصه د يوسف) له خبرو د غيبو ده چه (اعجازاً) وحيه كوو مونږ هغه تاته (اى محمده!)، او نه وې ته (اى محمده !) له دغو( ځامنو د يعقوب) سره كله چه دوى راټول كړ فكر خپل (په غورځولو د يوسف په كوهى كښې) حال دا چه دوى مكر فريب كاوه ( له يوسف سره نو چه تا غوندى امى په دى سره اخبار كوى نو دغه اعجاز دى)

**تفسير:** يعنى كله چه د يوسف عليه السلام ورونو دى له پلاره د بيلولو، او په كوهى كښې د غورځولو دپاره مشورې او تدابير جوړول، او پخپلو منځونو كښې سره جرګې كولې، او خبرې سره غوټه كولې، تاسې له هغوى سره نه وئ ـ چه د دوى خبرې به مو اوريدلې ـ او هغه حالات به مو كتل ـ نو بيا داسې صحيح واقعات پرته (علاوه) د الله تعالىٰ له وحيې څخه تاته چا دربښوولى دى؟ تاسې په رسمى دول (طريقه) لوستونكى او ليكونكى نه يئ او نه له كوم ظاهرى معلم څخه مو څه استفاده كړى ده، نو بيا دغه ګرد (تول) حقائق چه د هغو په دغه اندازه سره تفصيل په (بائبيل ـ انجيل) كښې هم نشته تاسې ته ماسواء له الله تعالىٰ څخه بل كوم سرى دربښوولى دى؟.

وَمَآ اَكْثَرُ النَّاسِ وَلَوْ حَرَصْتَ بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۰۳﴾

او نه دى زياتره خلق او اګر كه حرص وكړى ته (اى محمده ! په ايمان راوړلو د دوى) ايمان راوړونكى (عناداً)

**تفسیر:** یعنی سره له دی چه ستاسی پر صداقت داسی ښکاره او واضح دلائل هم موجود دی بیا هم زیات خلق هغه کسان دی چه په هیڅ دول (طریقه) سره ایمان نه راوړی .

وَمَا تَسْـَٔلُهُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۚ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿١٠٤﴾

او نه غواړی ته (ای محمده!) له دوی څخه په دغه (ابلاغ د قران) هیڅ اجر (بدل، عوض)، نه دی دا قران مگر پند دی ( له جانبه د الله) دپاره د تولو خلقو(جن دی که انس).

**تفسیر:** یعنی که نه ئی منی، ودی نه منی ـ تاسی ته څه نقصان رسوی؟ د تبلیغ څه طلب او تنخاه ته له دوی څخه نه غواړی چه هغه به پر تا بنده کری ـ پند او نصیحت او پوهول خو هم دا دی چه تاسو هغوی ته وکره ـ او پرله پسی یی کوئ.

وَكَأَيِّن مِّنْ ءَايَةٍ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ يَمُرُّونَ عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُونَ ﴿١٠٥﴾

او ډیر دی له دلائلو (چه دلالت کوی په کامله قدرت او وجود د رب العزت) په اسمانونو او په ځمکه کښی ( چه دغه معاندین) تیریږی پری (او په سترگو ئی وینی) حال دا چه دوی له هغو نښو ځنی تل څنگ کوونکی دی (چه نه پکښی فکر کوی او نه تری عبرت اخلی).

**تفسیر:** یعنی همغسی چه د تنزیلیهؤ ایتونو په اوریدلو سره دوی ایمان نه راوړی هم داسی د تکوینیهؤ ایتونو په لیدلو سره هم د الله تعالیٰ د توحید سبق نه زده کوی اصلی خبره خو هم دا ده چه د دوی اوریدل او لیدل خوشی چتی (بیکاره) او محض سطحی دی ـ که په ایات الله کښی دوی لږ څه غور او فکر چلولی وی، نو څه نه څه گټه او فائده به تری وررسیده ـ کله چه دوی فکر او تمیز نه لری، نو ایمان به له کومه راوړی.

وَمَا يُؤْمِنُ أَكْثَرُهُم بِٱللَّهِ إِلَّا وَهُم مُّشْرِكُونَ ﴿١٠٦﴾

او ایمان نه راوړی ( یقین نه کوی) اکثر له دغو مشرکانو پر (وجود او

خالقیت د) الله مګر په دی حال کښې چه دوی شریک نیوونکی (له الله سره د بل څیز).

**تفسیر:** په ژبې سره ګرد (تول) وائی چه خالق او مالک همغه الله تعالیٰ دی مګر سره له هغه دوی ځینی بتان د خدائ حصه داران ګرځوی ـ لکه چه د عربو مشرکانو به په تلبیه کښې دا الفاظ ویل «کقول مشرکی العرب: لبیک اللّهم لبیک لا شریک لک الا شریکا هو لک تملکه ومامُلک» ځینی د هغه دپاره هلک او جونی تجویز کوی ـ ځینی هغه روح او مادی ته اړ (مجبور) او محتاج بولی ـ ځینو احبارو او رهبانانو ته ئی د خدائ اختیارات ورکړی دی ډیرو کسانو د تعزیه داری ـ مجاوری قبر پرستئ ـ پیر پرستئ د خسو او خاشاکو سره د توحید صافه او پاکه چینه مکدره او لوغړنه او خرابه کړی ده ـ څومره داسی موحدین به پیدا کیږی چه له ریا او هوا او هوس څخه پاک وی؟ ـ الغرض تش په ژبه د ایمان داری دعوی ډیره ګرانه ده، او داسی پاک، سوچه او چاندی مسلمانان ډیر لږ پیدا کیږی چه د عقیدی او عمل په درجه کښې د جلی یا د خفی شرک ارتکاب نه کوی. **(اعاذنا الله من سائر انواع الشرک)**

اَفَاَمِنُوۡۤا اَنۡ تَاۡتِيَهُمۡ غَاشِيَةٌ مِّنۡ عَذَابِ اللّٰهِ اَوۡ تَاۡتِيَهُمُ السَّاعَةُ بَغۡتَةً وَّهُمۡ لَا يَشۡعُرُوۡنَ ﴿۱۰۷﴾

آیا نو په امن کښې دی دا (مشرکان) له دی نه چه راشی دوی ته (عقوبت) چاپیریدونکی پټوونکی له عذابه د الله نه یا راشی دوی ته قیامت ناڅاپه حال دا چه دوی پری خبر نه وی (او څه تیاری نه وی کړی ورته).

**تفسیر:** یعنی دغه مشرکان داسی بیفکره، او بی خوفه ولی کیږی ـ آیا دوی د الله تعالیٰ له عذابه، یا د قیامت له هولناکو او ویروونکو حوادثو څخه د محفوظ پاتی کیدلو څه انتظام کړی دی؟.

قُلۡ هٰذِهٖ سَبِيۡلِيۡۤ اَدۡعُوۡۤا اِلَى اللّٰهِ ؔ عَلٰى بَصِيۡرَةٍ اَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِيۡ ؕ وَسُبۡحٰنَ اللّٰهِ وَمَاۤ اَنَا مِنَ الۡمُشۡرِكِيۡنَ ﴿۱۰۸﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) چه دغه (ایمان او توحید) لاره زما ده چه

(تینگ پری ولاړ یم او) بولم زه تول خلق طرف د(توحید) د الله ته په بیان (او ښکاره دلیل) سره (هم) زه او (هم هر) هغه څوک چه متابعت پیروی کوی زما ، او پاک دی الله (له شرکه او ولده او نورو عیبونو) او نه یم زه له شریک نیوونکیو (په الله پوری).

**تفسیر:** یعنی زما لاره هم دغه د خالص توحید سمه صافه لاره ده ـ زه ګردی (تولی) دنیا ته دعوت ورکوم چه ګرد (تول) چتی (بیکاره) خیالات او اوهام پریږدی ـ او د یوه واحد احد الله تعالیٰ لوری ته راشی! د ده توحید د ده د صفاتو او کمالاتو او د احکامو او د نورو صحیح معرفت حاصل، او صحیحه لاره پیدا کړی! ـ زه او زما ملګری پر هم دغی سمی صافی لاری باندی رهی (روان) یو ـ او د حجت او برهان ـ او بصیرت او وجدان په رڼا درومو پاک الله ماته داسی یو نور او رڼا راعطا کړی ده چه په هغی سره زما او زما د ګردو (تولو) ملګرو دماغ منور او روښان شوی دی دلته له سره د ړندو تقلید او پیروی نشته. د خاص توحید تلونکی پخپل هر قدم کښی پخپل باطن کښی د معرفت او بصیرت خاصه رڼا او د عبودیت محضه خاص لذت محسوسوی ـ او په ډیر اخلاص او صمیمیت (عزم) سره داسی مخلصانه ناری وهی ﴿ وَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴾ !

کله چه کفارو وویل چه الله تعالیٰ ښخه خو ډیری ملائکی دی نو هغه ئی ولی نه رالیږلی چه ته او نور سړی ئی رالیږلی یئ نو دغه آیت نازل شو

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ إِلَّا رِجَالٗا نُّوحِيٓ إِلَيۡهِم مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡقُرَىٰٓۗ أَفَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۗ وَلَدَارُ ٱلۡأٓخِرَةِ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿١٠٩﴾

او نه ؤ لیږلی مونږ پخوا له تا (په رسالت سره) مګر سړی (بنیادم نه ملائک نه جن نه ښځی) چه وحی به کوله مونږ دوی ته له اهل د قریو(او ښارونو نه له صحرایانو او بیابانیو) آیا نو نه ګرځی ( دا کافران) په ځمکه (ملکونو) کښی پس ودی وینی دوی (په نظر د عبرت سره) چه څرنګه ؤ عاقبت (آخره خاتمه) د هغو (دروغجنانو) چه پخوا تیر شوی دی له دوی نه، او خامخا کور د آخرت ( جنت) ډیر غوره دی دپاره د هغو کسانو چه ځان ساتی ( له شرکه او له نافرمانی او ویریږی له الله ) ، ایا نو تاسی عقل نه چلوئ ( په بهتری ئی) .

**تفسير:** يعني پخوا له دې نه هم مونږ له آسماني پرښتو څخه کوم نبي نه دې منتخب کړی ـ او نه ليږلي ـ پخواني انبياء عليهم السلام هم د هم دغه انساني کليو او د ښارونو له هستيدونکو سړيو څخه ؤ ، نو بيا وويئ ! چه د هغوی د دروغجن کوونکيو کسانو حشر په دنيا کښې څرنګه شو؟ حال دا چه په دنيا کښې علیالاکثر کفارو ته ډير اوقات عيش او عشرت نصيب شوی دی ـ البته د آخرت ښيګڼه (نفعه) او بهتري خالص د هغو کسانو په برخه ده چه له کفر او شرکه خپل ځان ساتي . دغه د مکي معظمي کفارو ته تنبيه ده چه د پخوانيو کفارو له احوالو څخه عبرت واخلي.

**تنبيه:** له دې آيت څخه دغه خبره راوځي چه هيڅ يوه ښځه د نبوت په درجه نه ده رسيدلي ـ حضرت بي‌بي مريمې ته پاک قران د «صديقي» مرتبه ورښيلې ده، او هم له دې آيت څخه ظاهرېږي چه له اهل البوادی (صحرائيانو او بدوانو) څخه هيڅ يو نبي نه دی مبعوث شوی.

پس ښائي چه مغروره نشي معاندان د زماني ستا ای محمده ! ځکه چه هغو تيرو اقوامو ته به مونږ په هغه طغيان او تکذيب خپل کښې مهلت ورکاوه او رسولانو به تبليغ کاوه او نصرت به ئې مؤخر کيده .

حَتَّىٰٓ إِذَا ٱسۡتَيۡـَٔسَ ٱلرُّسُلُ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُمۡ قَدۡ كُذِبُواْ جَآءَهُمۡ نَصۡرُنَا فَنُجِّيَ مَن نَّشَآءُۖ وَلَا يُرَدُّ بَأۡسُنَا عَنِ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿١١٠﴾

تر هغه پوری چه نااميده به شول رسولان (له اسلام د کفارو يا د ژر راتللو د عذاب) او ګمان به وکړ دوی چه بيشکه دوی په تحقيق دروغ ويلی شوی دی دوی ته (له جانبه د نفسونو د دوی يا له جانبه د قوم د دوی په وعده د ايمان په هم دې وقت کښې) ناڅاپه به راغی دوی ته نصرت مدد زمونږ نو خلاصي به ورکړه شوه له (عذابه) هغه چاته چه اراده به وفرمايله مونږ ( يعني رسولان او مؤمنان)، او نشي دفع کيدلی عذاب زمونږ له قوم ګنهګارانو (کافرانو ) څخه.

**تفسير:** يعني د عذاب له تاخيره مه خطاء وځئ ـ پخوانيو اقوامو ته هم اوږده مهلتونه ورکړی شوی ؤ ـ او د عذاب په راتللو کښې به دومره زيات ځنډ (ايسارتيا) پيښيده چه منکرين بيخي ياغي او بيفکره کيدل او ډير زيات شرارت او له حده تير شرارتونه او بغاوتونه به ئې کول ـ او د دغو حالاتو له ليدلو څخه به انبياء عليهم السلام د دوی د ايمان راوړلو څخه بيخي مايوس کيدل ـ او له بل لوری به الله تعالیٰ هغوی ته دومره زيات فرصت او مهلت ورکاوه چه تر ډير

زیات اوږده مدت پورې به هم د عذاب هیڅ یوه نښه او آثار دوی ته نه ښکاره کیدل). الغرض د دواړو خواؤ حالات او آثار به د انبیاؤ دپاره نااميدی ښونکی او بې‌هیلی کیدونکی ؤ. د دغی منظری له لیدلو څخه کافرانو به په یقینی دول (طریقه) سره داسی خیال کاوه چه له انبیاؤ سره هغه وعدی چه د دوی د نصرت او مرستی (مدد) او زمونږ د ادبار او د اهلاک دپاره شوی دی هغه گردی (تولی) چتی (بیکاره) او دروغ دی ـ د عذابونو او نورو گرد (تول) چل ول او مکر او فریب تش زمونږ د ویرولو دپاره ؤ. هیڅ لری به نه وی چه په داسی مأیوس کوونکو او اضطراب غورځونکو حالاتو کښی د انبیاؤ علیهم السلام په زړونو کښی به هم داسی خیالات راغلی وی چه په هغه رنگ او دول (طریقه) سره چه مونږ د عذاب وعدی له خلقو سره کړی وی ښائی صحیحی نه وی؟ یا د وساوسو او خطراتو په درجه کښی به بی اختیاره داسی وهم ور پیدا شوی وی چه هغه وعدی چه زمونږ د نصرت او د منکرینو د هلاکت په نسبت کړی شوی وی آیا هغه به نه پوره کیږی؟ لکه چه د البقرة په (۲٦) رکوع کښی ئی فرمایلی دی ﴿ وَزُلۡزِلُواْ حَتَّىٰ يَقُولَ ٱلرَّسُولُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ مَتَىٰ نَصۡرُ ٱللَّهِ ﴾ کله چه د مجرمینو بی خوفی ـ او د انبیاؤ علیهم السلام تشویش تر دی اندازی ورسید نو په دغه وقت کښی یو ناڅاپه آسمانی مدد راغی بیا د هر چا په نسبت چه د الله تعالیٰ اراده وشوه یعنی فرمان وړونکی مؤمنین یی محفوظ او مأمون وساتل او د مجرمینو بیخ یی وویست.

**تنبیه:** د الله تعالیٰ له غیر محدود رحمت او مهربانی څخه مأیوسی کفر دی. لیکن د ظاهری حالاتو او اسبابو په اعتبار مأیوسی کفر نه ده. یعنی داسی ویلی شی چه مثلاً د هغه شیز په نسبت تر هغه ځای پورې چه د ظاهری اسبابو تعلق دی مأیوسی شته ـ لیکن د حق تعالیٰ له کامل رحمت څخه مأیوسی نه ده پکار. په ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا ٱسۡتَيۡـَٔسَ ٱلرُّسُلُ ﴾ ایت کښی هم دغه مأیوسی مراد ده چه د ظاهری حالاتو او اثارو په اعتبار ده چه د کفارو له ایمان او اصلاح څخه مأیوس شوی دی که نه انبیاء علیهم السلام د الله تعالیٰ له رحمت څخه کله مأیوس کیدی شی

**تنبیه:** د کفر وسوسه چه هاجس او خاطر ورته وایه شی په حق د عامو مسلمانانو کښی کفر نه دی. او نه په کومه درجه د ایمان یا د عصمت منافی ده په حدیث کښی راغلی دی چه اصحابو کرامو رضی الله عنهم اجمعین عرض وکړ «یا رسول الله ! مونږ پخپلو زړونو کښی بی اختیاره داسی شیان مومو چه د هغو په ژبه راوړلو په مقابل کښی مونږ دغه بهتره گڼو چه وسوځیږو او تک تور سکاره وگرځو» نو رسول الله مبارک وفرمایل « آیا تاسی داسی شیان پخپلو زړونو کښی مومئ؟» دوی عرض وکړ چه «هو!» نو ئی وفرمایل «**ذالک صریح الایمان** » دغه ښکاره ایمان دی.

لَقَدْ كَانَ فِي قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ ۗ مَا كَانَ حَدِيثًا يُفْتَرَىٰ وَلَٰكِن تَصْدِيقَ الَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيلَ كُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿١١١﴾

خامخا په تحقیق شته په قصه د دوی (یوسف یا د نورو انبیاؤ یا اممو) کښې عبرت (پند) دپاره د خاوندانو د عقلونو ( خالصو)، نه دی (دغه قران) یوه داسې خبره چه له ځانه په دروغو ویلی شوی وی لیکن دی دغه قران تصدیق کوونکی او (موافق) د هغو کتابونو چه وو پخوا له دی نه او دی تفصیل د هر شی ( چه محتاج الیه وی په دین کښې) او هدایت دی او رحمت دی دپاره د هغه قوم چه ایمان ئی راوړی ( په الله او په رسول الله).

**تفسیر:** یعنی دغه خو کومه افسانه او رومان نه دی. بلکه تاریخی حقائق دی ښائی چه له هغه نه عقلاء او پوهان سبق واخلی او نه دی دغه قران یوه داسې خبره چه په دروغو ویلی شوی وی ولیکن دغه قران تصدیق کوونکی او موافق دی له هغو کتابونو سره چه وو پخوا له دی نه او دی تفصیل د هر شی چه محتاج الیه دی په دین کښې او هدایت او رحمت دی لپاره د هغه قوم چه ایمان ئی راوړی پر الله تعالیٰ او رسول الله یعنی پاک قران چه په هغه کښې قصص بیان شوی دی کوم له خپل ځانه جوړی کړی خبری نه دی د ګردو (تولو) پخوانیو رښتینو کتابونو تصدیق کوونکی دی. او د هر ضروری شی په ښکاره دول (طریقه) سره بیان کوونکی دی څرنګه چه ایمانداران له هغه څخه نفع اخلی. نو په دغه لحاظ د دوی په حق کښې په خاص دول (طریقه) سره د هدایت او رحمت ذریعه ده

نفعنا الله بعلومه ورزقنا تلاوته آناءالیل و آناءالنهار وجعله حجة و برهانا لنا لاعلینا امین

تمت سورة یوسف علیه السلام بعون الله تعالیٰ

( سورة الرعد مدنية الا الايتين ٣١ و٣٢ ولو ان قرانا الی)
( فكيف كان عقاب اياتها ( ٤٣ ) ركوعاتها (٦) رقمها (١٣) تسلسهاحسب النزول(٩٦)
نزلت بعد سورة محمد صلی الله عليه وسلم)

د «رعد» سورت مدنی دی. پرته (علاوه ) له دوو ایتونو څخه چه ۳۱ و ۳۲ دی او له «ولو ان قرانا» څخه نيولی تر «فكيف كان عقاب» پوری دی. ايات ئی (٤٣) او ركوع ئی (٦) په تلاوت كښی (١٣) ـ په نزول كښی(٩٦) سورت دی او وروسته د محمد «صلی الله عليه وسلم» له سورته نازل شوی دی

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

(شروع) په نامه د الله چه خورا (ډير) مهربان ډير رحم والا دی

الٓمّٓرٰ تِلۡكَ اٰيٰتُ الۡكِتٰبِ ؕ وَالَّذِىۡۤ اُنۡزِلَ اِلَيۡكَ مِنۡ رَّبِّكَ الۡحَـقُّ وَلٰـكِنَّ اَكۡثَرَ النَّاسِ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۱﴾

دا ایتونه د كتاب ( قران) دی، او هغه كتاب چه نازل كړی شوی دی تاته له (طرفه د ) رب ستا حق دی وليكن زيات خلق نه كوی يقين پری (چه له جانبه د الله دی).

**تفسير:** يعنی هر هغه شی چه په دغه سورت كښی لوستل كيږی، هغه ګرد (ټول) د عظيم الشان كتاب ايتونه دی دغه كتاب چه پر تا د الله تعالیٰ له لوری نازل كړی شوی دی يقيناً حق او صواب دی ليكن ډير د تعجب او حيرانی ځای دی چه د داسی صافو او واضحه ؤ حقائقو له منلو څخه هم اكثر خلق انكار كوی.

اَللّٰهُ الَّذِىۡ رَفَعَ السَّمٰوٰتِ بِغَيۡرِ عَمَدٍ تَرَوۡنَهَا ثُمَّ اسۡتَوٰى عَلَى الۡعَرۡشِ وَسَخَّرَ الشَّمۡسَ وَالۡقَمَرَ ؕ كُلٌّ يَّجۡرِىۡ لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ يُدَبِّرُ الۡاَمۡرَ يُفَصِّلُ الۡاٰيٰتِ لَعَلَّكُمۡ بِلِقَآءِ رَبِّكُمۡ تُوۡقِنُوۡنَ ﴿۲﴾

الله هغه ذات دی چه پورته کړی ئی دی اسمانونه ( او درولی ئی دی) بی له ستنو چه وئ وینئ تاسی بیا ئی استواء وکړه په عرش باندی (په هم هغه شان چه د ده د الوهیت له شان سره وړ (لائق) ده) او مسخر کړی ئی دی لمر او سپوږمی، هر یو (له دوی نه) روان دی تر نیتی معلومی پوری، تدبیر کوی د هر امر (کار د ملکوت او سلطنت خپل) بیانوی (ظاهروی) په تفصیل سره دلائل (د توحید او قدرت خپل) دپاره د دی چه تاسی په ملاقات د رب خپل یقین وکړئ.

---

**تفسیر:** یعنی د دی دنیا داسی عظیم الشان هسک (اوچت) او مضبوط سقف چت پاک الله جوړ کړی دی چه تاسی ئی هم گورئ ـ او لطف په دی کښی دی چه هیڅ یوه ستنه یا طناب یا پایه او گادر یعنی یو د تکیی او استناد شی زمونږ په نظر نه راځی چه پر هغه باندی دومره لوی تعمیر او بی سره او بی‌سامان چت درولی شوی دی ـ پرته (علاوه) له دی نه بل څه ویلی شی چه محض د قدرت د غیر مرئی‌ستنو په قوت دریدلی دی لکه چه جزء (۱۷) د حج په ( ٦٥) اية ۹ رکوع کښی فرمائی ﴿وَيُمْسِكُ السَّمَآءَ أَنْ تَقَعَ عَلَى الْأَرْضِ إِلَّا بِإِذْنِهِ﴾ که د اجسامو د راښکوولو ( جاذبی) نظریه صحیح وی، نو هغه له دی آیت سره څه منافات نه لری ـ ځکه چه راښکوولو ته عرفاً عمد نه وائی او که عمد وویلی شی، نو هغه مرئی‌نه دی. و روی عن ابن عباس و مجاهد رضی الله تعالیٰ عنهما والحسن وقتادة وغیر واحدرضی الله عنهم «**انهم قالوا لهاعمد ولکن لا تری**» (ابن کثیر) یعنی دغو مشرانو فرمایلی دی چه اسمانونه داسی ستنی لری چه مونږ ئی نشو لیدلی. والله اعلم . د «**استواء علی العرش**» په متعلق په اتم جزء د «الاعراف» په (٥٤) اية (۷) رکوع کښی کلام شوی دی هلته دی بیا ولوست شی ! ﴿وَسَخَّرَ الشَّمْسَ﴾ الآية ـ ـ او مسخرکړی دی لمر او سپوږمی هر یو له دوی نه روان دی تر نیتی معلومی شوی پوری یعنی لمر خپله دوره په یوه کال کښی او سپوږمی ئی په یوه میاشت کښی پوره کوی ـ یا د ﴿لِأَجَلٍ مُسَمًّى﴾ معنی تر مقرر وقت پوری واخیسته شی، نو مطلب به ئی دا شی چه لمر او سپوږمی هم داسی روان دی تر قیامت پوری

﴿يُدَبِّرُ الْأَمْرَ﴾ تدبیر کوی د هر امر او کار د ملکوت او سلطنت خپل لکه ایجاد اعدام اعزاز ـ اذلال ـ احیاء ـ امانت او نور یعنی هغه ذات چه داسی عظیم الشان مخلوقات ئی پیدا کړی دی ـ ایا هغه ته ستاسی بیا ژوندی کول مشکل دی؟ او هم یو باخبره ـ مدبر ـ ویښ ـ مغز لرونکی طاقتور حکومت باغیان او مجرمان به د همیشه دپاره هم داسی او خپل سر او ازاد پریږدی او نه د وفادارو او امن خوښوونکی رعایاؤ د راحت او هوسائی رسولو څخه سترگی پټولی شی ـ نو بیا څرنگه ممکن دی چه هغه الله قدوس چه د ځمکی او د اسمان د تخت یواځی مالک او څیښتن (خاوند) هم دی دی، او پخپل حکمت او تدبیر سره د گردو (ټولو) علوی او سفلی مخلوقاتو انتظام په ډیر ښه دول (طریقه) او اسلوب سره قائم ساتونکی دی، مطیع او عاصی به هم

داسي مهمل پرېږدي نو ضروري ده چه يوه ورځ وفادارانو ته د وفادارۍ صله ور ورسيږي او مجرمانو ته د دوی د جرم سزا ورېه غاړه شي نو هر کله چه په دغه ژوندون کښې مونږ د مطيع او عاصي په مينځ کښې داسي صاف او ښکاره عادلانه تفريق او توپير (فرق) ونه کړو، نو باليقين دغه خبره د تسليم وړ (لائق) کرځي چه وروسته له دې ژوندانه هرومرو (خامخا) يو بل عالي او اساسي ژوندون هم شته چه په هغه کښې گرد (تول) سره د سماوي عدالت په مخ کښې حاضر او درولی کيږي ـ او د گردو (تولو) عمرونو د اعمالو نتيجه به گوري ـ او د هغو د ثمراتو خوند به څکي.

وَهُوَ الَّذِي مَدَّ الْأَرْضَ وَجَعَلَ فِيهَا
رَوَاسِيَ وَأَنْهَارًا ۖ وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ جَعَلَ فِيهَا زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ ۖ
يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٣﴾ وَ
فِي الْأَرْضِ قِطَعٌ مُتَجَاوِرَاتٌ وَجَنَّاتٌ مِنْ أَعْنَابٍ وَزَرْعٌ وَنَخِيلٌ
صِنْوَانٌ وَغَيْرُ صِنْوَانٍ يُسْقَىٰ بِمَاءٍ وَاحِدٍ وَنُفَضِّلُ بَعْضَهَا
عَلَىٰ بَعْضٍ فِي الْأُكُلِ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٤﴾

او دغه ( الله ) همغه ذات دی چه غوړولی ئی ده ځمکه او پيدا ئی کړه په دغې ځمکې کښې غرونه ثابت (درانه چه د مضبوطو ميخونو په شان ولاړ دي) او ويالي (د اوبو)، او هرو قسمو ميوو نه ئی پيدا کړی دي په دغې ځمکې کښې جوړه دوه (لکه سور سپين ـ ژير تور ـ خواږه تروه ـ واړه غټ)، پټوی په تياره د شپې سره ورځ ، بيشکه په دې مذکوره ؤ خبرو کښې خامخا دلائل دي (د قدرت) لپاره د (هغه) قوم چه فکر کوی (په مصنوعاتو د الله کښې). او په ځمکه کښې توتې دي (مختلفې) څنگ په څنگ پيوستې يو له بل سره او (نور) باغونه دي( په دې ځمکې کښې) له انگورو او کښتونه (فصلونه) دي او ونې د خرما دي چه ځينې له يوه بيخه پورته شوی دي او ځينې ځان ځان ته بيخ لري چه اوبه کولی شي په اوبو يو قسم سره او غوره کوو ځينې له هغو څخه په ځينو نورو باندې په خوراک (خوند ـ رنگ او وږم

کښي) بيشکه په دغو (مذکوره ؤ اشياؤ) کښي خامخا دلائل (د قدرت) دي لپاره د (هغه) قوم چه عقل چلوي پکښي.

**تفسير:** يعني (او دغه الله همغه ذات دى چه غوړولى ده ځمکه او پيدا ئى کړه په دغى ځمکى کښي ثابت) غرونه چه تل په همغه يو ځاى کښي کلک ولاړ دي، او سيندونه چه هر وقت بهيږي او له هرو قسمو ميوو نه ئى پيدا کړى دى په دغى ځمکى کښي جوړه دوه يعني لوى، وړوکى، خواږه او تروه ـ تور ، سپين ، گرم ـ يخ ـ او سم له جديدهؤ تحقيقاتو سره په هر يوه کښي نر او ښځه هم موندلى کيږي. د ﴿ يُغۡشِي ٱلَّيۡلَ ٱلنَّهَارَ ﴾ معنى په اتم جزء د «الاعراف» په (٥٤) آيت (٧) رکوع کښي پخوا له دى نه ليکلى شوى ده هلته دى بيا ولوسته شي. د هسکو (وچتو) اسمانونو په مقابل کښي د تيټى ځمکى بيان هم ذکر کړ ـ له اسمان سره د لمر او سپوږمى بيان هم وشو چه د هر يوه تگ سره بيل دى ـ او د هر يوه کار سره جلا (جدا) دى ـ د يوى تودى او تيزى اشعى او پلوشى هسى کارونه اجراء کوى، چه د هغى بلى د يخى او سپکى روښانى ضيا او وړانگى (پلوشى) څخه هغه په لاس نه راځى. هم داسى دلته د ځمکى د مختلفو احوالو او له هغى سره د تعلق لرونکو مختلفو شيانو ذکر وفرمايه ـ چيرى غر ولاړ دى. چيرى سيند بهيږى ـ هغه ميوى او ثمرات چه پيدا کيږى په هغو کښي هم د شکل ـ صورت ـ رنگ ـ خوند ـ وړوکوالى ـ او لويوالى بلکه په نر او ښځه کښي هم اختلاف دى ـ کله ځمکه د ورځى له رڼا څخه رڼه کيږى ـ کله شپى تک تور نقاب پټونى پر خپل مخ اچولى دى بيا عجيبه ننداره او غريبه منظره خو دا ده چه د ځمکى هغه څو قطعى چه يوه له بل سره نښتى دى يا څنگ په څنگ سره پرتى دى ـ او ځينى ئى متى او ځينى ئى شگلوږى ـ او ځينى ئى خورا (ډيرى) ناپاکى ـ او ځينى ئى پاکى ـ او ځينى د کرلو وړ (لائق) او ځينى ئى د نيالگيو (بوزغلى) د کيښولو لائقى ـ او ځينى ئى خوږى او ځينى تروى دى دغه تول په يو اوبو سره سيراب ( پڼ) کيږى ـ او د يوه لمر پلوشى اشعه گردو (تولو) ته وررسيږى ـ او يوه هوا د ځمکى پر مخ چليږى او ترى محاطه دى او سره له دى دومره قدر مختلفى ميوى او گلان ترى پيدا کيږى او يو له بل سره د حاصلاتو په تزئيد او تنقيص کښي دومره فرق او توپير (تفاوت) لرى چه ليدونکى ورته هک پک حيران پاتى کيږى ـ غور او فکر کوونکى د قدرت د دغو دلائلو او نښو له ليدلو څخه پوهيږى چه له همغى يوى د رحمت له وريځى څخه اوبه څښونکى دى، يا له همغه يوه د هدايت د لمر د اشعه او پلوشى څخه رنيږى، نو له هم دغى رحمانى وريا (باران) او فيضانى رڼا له هدايت او لاربښوونى څخه د انسانانو د مادى او روحانى احوالاتو اختلاف او توپير (فرق) هم دومره مستبعد او مستنکر نه دى ، او پر دغه هم يقين او باور کوى چه د لامحدوده قدرت کوم زبردست لاس له اسمانه تر ځمکى پورى د گردو (تولو) مخلوقاتو ترکيبى نظام پخپله قبضه کښي داسى نيولى دى چه د هر شى له استعداد سره سم د هغه د عمل دائره او د اثر منطقه ډير کلک او مضبوط حد بندى او ويش سره ترلى دى، نو بيا داسى لامتناهى قدرت او اختيار لرونکى الله

ته دغه کار به څه اشکال لری چه موږ وروسته له مره کیدلو څخه بیا ژوندی کړی ـ او د دی عالم د مخلوطو عناصرو د کیمیاوی تحلیل او تجزیی څخه هر خیر او شر هغه مستقر ته ورسوی

(سبحان من تحیر فی صنعه العقول سبحان من بقدرته یعجز الفحول)

وَإِن تَعْجَبْ فَعَجَبٌ قَوْلُهُمْ أَءِذَا كُنَّا تُرَٰبًا أَءِنَّا لَفِى خَلْقٍ جَدِيدٍ ۗ

او که تعجب لری (ای محمده! له دی نه چه دوی تا نه منی) نو لا عجیبه ده (دا) خبره د دوی چه ( وائی) آیا کله چه شو موږ خاوری آیا شو به موږ خامخا به پیدایښت نوی کښی،

تفسیر: یعنی له دی نه به زیاته عجیبه خبره څه وی چه هغه ذات چه ړومبی یو شی جوړ کړی وی نو هغه به بیا په دوهم ځلی جوړولو باندی ولی قادر نه وی؟ ( العیاذ بالله )

أُو۟لَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِرَبِّهِمْ ۖ وَأُو۟لَـٰٓئِكَ ٱلْأَغْلَـٰلُ فِىٓ أَعْنَاقِهِمْ ۖ وَأُو۟لَـٰٓئِكَ أَصْحَـٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَـٰلِدُونَ ۝

دوی همغه کسان دی چه کافران شوی دی په رب خپل او هم دغه گمراهان دی چه د اور طوقونه به وی ( په قیامت کښی) په غاړو د دوی کښی او دغه ( خاوندان د طوقونو) صاحبان ( ملگری) د اور دی، دوی به په دی اور کښی همیشه وی.

تفسیر: گواکی دغه خلق له «**بعث بعد الموت**» څخه انکار کوی، او د پاک الله له مالک الملکوتۍ او شهنشاهۍ څخه منکریږی ـ نو د داسی باغیانو انجام لازم دی چه هم داسی وشی چه د دوی په غاړو کښی د اور طوق او غاړکۍ او په لاسونو او پښو کښی ئی الچکۍ او بیړۍ واچولی شی، او په هغی ابدی بندیخانی کښی وغورځول شی چه په حقیقت کښی د هم داسی مجرمانو دپاره جوړه کړی شوی ده

وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ وَقَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمُ الْمَثُلٰتُ ؕ وَاِنَّ رَبَّكَ لَذُوْ مَغْفِرَةٍ لِّلنَّاسِ عَلٰى ظُلْمِهِمْ ۚ وَاِنَّ رَبَّكَ لَشَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿٦﴾

او ژر غواړی دوی له تانه بدی (عذاب) پخوا له نیکی (رحمت) څخه حال دا چه په تحقیق تیر شوی دی پخوا له دوی نه عذابونه (مثالونه د امثال د دوی چه موجب د عبرت دی او دوی تری عبرت نه آخلی)، او بیشکه رب ستا خامخا څیښتن (مالک) د مغفرت دی خلقو ته سره له ظلمه (کفره) د دوی (که ایمان راوړی او بیشکه رب ستا خامخا سخت دی عذاب د ده (کفارو ته).

**تفسیر:** یعني دوی حق نه قبلوی چه په هغه کښی د دنیا او آخرت ښیګنی(فایدی) ور په برخه شی، او کفر اختیاروی او ژر غواړی له تانه زحمت پخوا له راحت نه او وائی چه هغه موعود عذاب دی راوله . او حال دا دی چه په تحقیق سره تیر شوی دی پخوا له دوی نه عذابونه په پخوانیو دروغجن کوونکو باندی یعني پخوا له دی نه پر ډیرو اقوامو عذاب نازل شوی دی لکه غرق ـ خسف ـ زلزله ـ صیحه ـ مسخ او نور نو پر تاسی د عذاب نزول آیا مشکل ؤ . خبره دومره ده چه ستا پاک الله د خپل حلم او د عفوی له شانه په هر لوی او وړوکی جرم سمدستی نیول نه کوی. دی د خلقو ظلم او تیری ګوری او پرله پسی تری تیریږی تر هغه پوری چه د مظالمو او شرارتونو سلسله له خپل حده تیریږی ـ نو په دغه وقت د ده له تباه او سپیره کوونکی عذاب څخه د نجات هیڅ یو صورت نه پاتی کیږی.

وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ اِنَّمَآ اَنْتَ مُنْذِرٌ وَّلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ ﴿٧﴾

او وائی هغه کسان چه کافران شوی دی ولی نه نازلوه شی په دغه محمد باندی کومه معجزه (یا صداقت د ده) له (طرفه د) رب د ده (هغه چه مونږ ئی غواړو)، (نو وفرمایل الله په رد د دوی کښی) بیشکه هم دا خبره

ده چه ته ویروونکی ئی او دپاره د هر قوم لار ښووونکی (خاوند د خاصی معجزی مقرر) دی.

**تفسیر:** یعنی هغه دلائل د قدرت او نښی چه مونږ ئی غواړو ـ ولی نه نازلیږی ؟ چه د هغی له لیدلو څخه مونږ په ایمان راوړلو مجبور کیږو نو وفرمایل رب العزت جلجلاله په تردید د دوی کښی چه بیشکه هم دا خبره ده چه ته ای محمده ویروونکی ئی یعنی د آیتونو نزول ستاسی په واک (اختیار) او قبضه کښی نه دی هغه خو د پاک الله کار دی ـ هر هغه آیت معجزه او دلیل چه د رسول د تصدیق دپاره د هری زمانی په اقتضاء سره مناسب وی همغه ورښکاروی نه دا چه هر څه چه منکرین غواړی همغسی به ئی ورکوی ـ ستاسی په غاړه هم دغومره کار دی چه د خیر غوښتلو خبری هغوی ته واوروئ! او د بدی له مهلکو انجام څخه خلق باخبره کړئ! پرومبی به هم د هر قوم دپاره هادی ( لار ښوونکی) او نذیر(ویروونکی) راتلو چه له هغوی څخنی هیڅ یوه داسی دعوی نه کوله هر هغه نښه چه معاندین وغواړی هغه به هرومرو (خامخا) ورښکاره‌وی . هو! د پاک الله لاره هغوی ته ورښوول د دغو انبیاؤ کار ؤ ـ چه هم دغه ستاسی فریضه هم ده. هو! دومره دی چه هغوی د خاصو خاصو اقوامو دپاره هادیان وو او تاسی د هر قوم او ګردی (تولی) دنیا دپاره هادی یئ !.

---

اَللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ اُنْثٰى وَمَا تَغِيْضُ الْاَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ ؕ وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهٗ بِمِقْدَارٍ ⑧

---

الله عالم دی ( لا پخوا له تولده ) په هغه څه چه بار اخلی هره ښځه او( الله عالم دی) په هغه څه چه کموی ئی ارحام (او ناقص ئی څیږوی) او(الله عالم دی) په هغه چه زیاتوی ئی (من حیث الاعضاء والجثة والعدد والمدة)، او هر شی په نزد د دغه (الله) په اندازه دی.

**تفسیر:** چه نارینه دی که ښځه؟ پوره دی که نیمګری؟ ښه دی که خراب؟ **و غیر ذلک من الاحوال** دغه ګرد (تول) پاک الله ته لا پخوا له تولده پوره ښکاره دی او ښه ورمعلوم دی چه هر هغه چه بار اخلی هره ښځه او هر چه کموی ئی د الله تعالیٰ په اراده ارحام یا ئی زیاتوی **من حیث الا عضاء والعدد والمدة)** یعنی د حاملی په ګیده کښی یو مولود دی؟ که دیر؟ کامل مخلوق شوی دی؟ که ناتمامه دی؟ په لږ مدت کښی به پیدا کیږی یا په دیر؟ الغرض د ارحامو د تزئید او تنقیص د ګردو (تولو) اسرارو ـ اسبابو ـ اوقاتو او احوالو څخه پوره باخبر دی او سم له خپل محیط علم سره هر څیز په هر حالت او هره زمانه د هغه له اندازی او استعداد سره موافق

ساتي ـ هم داسی هغه آیات او نښې چه الله تعالیٰ د انبیاؤ علیهم السلام د تصدیق دپاره نازلی کړی دی په هغوی کښې خاصه اندازه ـ مصالح او حکمتونه ملحوظ ؤ او دی په هر وقت او په هره اندازه چه د بنیادمانو له استعداد سره صلاحیت او مناسبت درلود (لرلو) هومره نښې یې ورځرګندی کړی دی او په هغو کښې هیڅ تقلیل نه دی واقع شوی باقی د قبلولو او منتفع کیدلو په لحاظ د خلقو اختلاف هم داسی دی لکه چه د حامله ؤ او امیدوارو په ګیډو کښې د موالیدو احوال د تربیت او استعداد په تفاوت او توپیر (فرق) سره مختلف وی.

عٰلِمُ الْغَیْبِ وَالشَّهَادَةِ الْكَبِیْرُ الْمُتَعَالِ ﴿۹﴾

عالم دی په پټو او ښکاره ؤ چه ( ګردو (ټولو) څخه) ډیر لوی لوړ برتر دی (په قدرت او غلبه خپله کښې).

**تفسیر:** دغه د الله تعالیٰ د علم د لامحدوده وسعت او احاطې بیان دی یعنی د ټولی دنیا هیڅ یو پټ او ښکاره شی له هغه څخه پټ نه دی، او ګرد (ټول) عالم د ده تر حکم او تصرف لاندی دی.

سَوَآءٌ مِّنْكُمْ مَّنْ اَسَرَّ الْقَوْلَ وَ مَنْ جَهَرَ بِهٖ وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍۭ بِالَّیْلِ وَسَارِبٌۢ بِالنَّهَارِ ﴿۱۰﴾

یو شان دی له تاسو نه (علم د الله ته) هر هغه څوک چه پټوی خبره (په زړه خپل کښې) او هر هغه چه ښکاره کوی دا خبره او هر هغه څوک چه هغه پټیدونکی دی په شپه کښې او هر هغه څوک چه ظاهروونکی (د عمل خپل دی) په ورځ کښې.

**تفسیر:** د الله تعالیٰ د علم عموم ئی بیان کړ ـ او د مقام په مناسبت د مکلفینو د خاصو احوالو په نسبت دا راښیی چه ستاسی پر هر قول او فعل زمونږ علم محیط دی، هره هغه خبره چه تاسی پخپلو زړونو کښې پټه کړئ یا ئی په ورو سره ووایئ یا په علانیه او په چغه سره ناری کړئ یا کوم کار د شپی په تیاره کښې په پټه سره وکړئ! یا دا چه په ورځ په ډانګ پیلی (ښکاره) سره د کوڅو او بازارونو په سر ئی ووایئ په ګردو (ټولو) احوالو او ټولو حیثیتونو الله تعالیٰ خبردار او د ده د علم په اعتبار سره یو برابر او یو شان دی ځینی مفسرین دغه آیت پر دری راز (قسم) سړیو مشتمل راښیی

(۱): ﴿ مَّنۡ أَسَرَّ ٱلۡقَوۡلَ ﴾ (هغه چه خبره پټوی)
(۲): ﴿ وَمَن جَهَرَ بِهِۦ ﴾ (هغه چه ښکاروی ئی)
(۳): ﴿ وَمَنۡ هُوَ مُسۡتَخۡفِۭ بِٱلَّيۡلِ وَسَارِبُۢ بِٱلنَّهَارِ ﴾ ( هغه چه خپل کار په شپه کښی پټوی مثلاً هغه غل چه د شپی د مخی غلا کوی او هغه بل چه په ورځ کښی ئی ښکاروی مثلاً په ورځ کښی لمونځ کوی روژه نیسی ) نو دغه ګرد(ټول) پاک الله ته یو شان معلوم دی. لنده ئی دا چه هیڅ قول او فعل چه پټ وی که ښکاره هغه مخفی نه دی له الله تعالیٰ نه بلکه ګرد (ټول) سره ورښکاره دی

لَهُۥ مُعَقِّبَٰتٞ مِّنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهِۦ يَحۡفَظُونَهُۥ مِنۡ أَمۡرِ ٱللَّهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوۡمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنفُسِهِمۡۗ وَإِذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِقَوۡمٖ سُوٓءٗا فَلَا مَرَدَّ لَهُۥۚ وَمَا لَهُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَالٍ ﴿١١﴾

انسان لره (له جانبه د الله ملائکی دی) نوبت په نوبت راتلونکی دی یوه له بلی پسی د مخی له طرفه د دغه (انسان) او د شا له طرفه د دغه (انسان) چه ساتنه کوی د ده په امر حکم د الله سره، بیشکه الله نه بدلوی حالت د هیڅ قوم (چه عافیت او نعمت دی) تر هغه پوری چه بدل کړی دوی هغه ښه حالت ( طاعت) چه په نفسونو ځانونو د دوی کښی وی (په بد حالت سره چه معصیت دی) او کله چه اراده وکړی الله پر کوم قوم باندی د بدی (آفت) نو نشته بیرته ګرځیدل د هغه، او نشته دوی ته بی له الله څخه هیڅوک متولی (مددګار)

**تفسیر:** یعنی له هر بنده سره د الله تعالیٰ پرښتی ماموری دی ـ چه له هغوی ځینی د ده ګرد (ټول) پخوانی او وروستنی اعمال لیکی، او ځینی د الله تعالیٰ له حکم سره سم ذریعه ګرځی چه له هغوی څخه هغه بلاوی دفع کړی چه د هغو د اندفاع اراده الله تعالیٰ له بندګانو څخه ولری ـ همغسی چه په دغه عالم کښی د الله تعالیٰ عام عادت دی چه د هر هغه شی چه د پیدا کولو اراده وکړی د هغه ظاهری اسباب هم ورمهیا کوی هم داسی الله تعالیٰ څه داسی باطنی او مخفی اسباب او ذرائع هم پیدا کوی چه د هغو له لیدلو څخه زمونږ سترګی ناتوانه دی او نه ئی شو کتلی ـ لیکن د الله تعالیٰ د مشیت اجراء او تنفیذ د هغه په وسیله سره کیږی بیشکه چه الله تعالیٰ تغییر نه ورکوی هغه نعمت او عافیت ته چه کومی طائفی سره وی تر هغه پوری چه تغییر ورکړی دوی هغه حالت د طاعت ته چه په نفسونو د دوی پوری وی په بد حالت سره چه معصیت

دی. یعنی الله تعالیٰ پخپلې هغې ساتنې او مهربانۍ سره چه تل د ده له لوري کیږي هیڅ یو قوم محروم او بې برخې نه ګرځوي تر هغه وقته پورې چه دوی خپل ښه تګ ـ طاعت او عبادت ـ جمیله عادت او حسنه رویه نه وي بدله کړې ـ او کله چه دوی خپل هغه حالت په بد وضعیت ـ قبیحه اخلاق ـ معصیت سره بدل کړي نو داسې آفت پر دوی نازلیږي چه له سره بیرته ګرځیدونکې نه وي، او نه د هیچا مدد هلته په کار ورتلی شي.
**تنبیه:** دلته د اقوامو د عروج او زوال قانون راښیي نه د افرادو او اشخاصو. د قوم د ښه او خراب حالت په تعیین کښې تل د اکثریت او غلبې لحاظ وي

(د تېرو ښه ژوندون هلته بد اوړي
چه ښه پریږدي او بدیو ته تول واوړي)

هُوَ الَّذِيْ يُرِيْكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَّطَمَعًا وَّيُنْشِئُ السَّحَابَ الثِّقَالَ ﴿١٢﴾

دغه (الله) همغه ذات دی چه درښیي تاسې ته برق بریښنا (چه نښه د باران ده دپاره د خوف (او ویرولو د هغه چا چه ضرر ورسوي) یا دپاره د طمع (او امید د هغه چا چه فائده وررسوي او پیدا کوي) راپورته کوي وریځې درنې (په اوبو په هوا کښې).

**تفسیر:** پخوا د بندګانو د حفاظت ذکر ؤ بیا د بدو اعمالو له طرفه کوم آفت او مصیبت چه نازل کیدونکې دی د هغه ذکر وشو او دغه په ښه شان سره رامعلومه شوه چه د الله تعالیٰ شان د انعام او د انتقام د دواړو جامع دی ـ په هم دې مناسبت دلته د قدرت د ځینو داسې نښو په لوري توجه ورکړې شوې ده چه په هغو کښې په یو آن کښې تواماً هیله (امید) او ویره خوف او رجا د دواړو متضادو کیفیتونو د پیدا کولو صلاحیت شته ـ یعنې کله چه بریښنا بریښې نو خلق هیلمن (امیدوار) کیږي چه اوس به باران اوریږي او پرله پسې ویره هم ورته پیدا شي چه د هغه په اثر چیرې تندر او تکه (چرق) ونه لویږي او د هلاکت سبب ونه ګرځي کله چه درنه وریځ له اوبو ډکه راشي، نو خلق پرې خوشالیږي چه هغه د باران د رحمت د نزول سبب وګرځي او متصلاً ورته دغه فکر او چرت (خیال) هم ور ولویږي چه چیرې د اوبو طوفان ځپان رانشي، او د رېږ (زحمت) او تکلیف موجب نشي عیناً هم داسې انسانانو لره ښائي چه د پاک الله رحمت ته هم امیدوار شي، خو ورسره د الله تعالیٰ له مکره هم مامون او بې فکره نشي .

وَيُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهٖ وَالْمَلٰٓئِكَةُ مِنْ خِيْفَتِهٖ ۚ وَيُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ فَيُصِيْبُ بِهَا

مَنْ يَّشَآءُ وَهُمْ يُجَادِلُوْنَ فِى اللّٰهِ ۚ وَهُوَ شَدِيْدُ الْمِحَالِ ⑬

او تسبیح وائی رعد (پرښته) سره له ثناء د دغه (الله) او تسبیح وائی نوری ګردی (تولی) پرښتی له ویری (او له هیبته د الله) نه او لیږی (الله) تندرونه نو رسوی (غورځوی دغه تندرونه) پر هغه چا چه اراده وفرمائی حال دا چه دغه خلق جګړی کوی په شان د الله کښی حال دا چه الله سخت دی عقوبت د ده (په جګړه کوونکو باندی یا سخت دی نیول د ده)،

**تفسیر:** یعنی غوریدونکی وریځ یا پرښته د حال یا د قال په ژبه سره د الله تعالیٰ تسبیح او تحمید وائی لکه چه په (۱۵) جزء د بنی‌اسرائیل په (٤٤) آیت په (٥) رکوع کښی مونږ داسی یو آیت لولو ﴿ وَاِنْ مِّنْ شَیْءٍ اِلَّا یُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ وَلٰكِنْ لَّا تَفْقَهُوْنَ تَسْبِیْحَهُمْ ﴾ او ګردی (تولی) پرښتی له هیبته او خوفه د ده په حمد او ثنا او تسبیح او تحمید کښی مشغولی او لګیا دی.

**تنبیه:** د «رعد» او «برق» او نورو په متعلق د نن ورځی تحقیقات دا دی چه په وریځو کښی د کهربائیه (بجلیٔ) موجبه قوت موندلی کیږی، او په ځمکه کښی د کهربائیه سالبه قوت دی هغه وریځ چه له ځمکی سره زیاته نژدی وی، نو په هغی کښی کله نا کله د ځمکی سالبه کهر بائیه قوت سرایت کوی بیا پر دغی وریځی باندی ډیر ځلی هغه وریځ تیریږی چه په هغی کښی موجبه کهر بائیه قوت موجود وی او دغه قاعده له تجربی څخه معلومه شوی ده چه د مختلفو اقسامو «کهر بائیه» لرونکی دوه جسمه کله چه سره مخامخ شی، نو هر یو پخپل ځان هغه بل کهر بائیه قوت جذبوی خو دغه دواړه کهر بائیه قوتونه سره متحد شی. سم له دی قاعدی سره لاندنی او باندنی وریځ کله چه یو د بل کهر بائیه قوت خپل لوری ته راکاږی نو د دغو دواړو له یو ځای کیدلو څخه شدید حرارت پیدا کیږی او له دی شدید حرارت څخه د دغو دواړو وریځو د حجم په تناسب یوه اور تویوونکی لمبه راپورته کیږی چه هغی ته صاعقه او تندر وائی او د دغی صاعقی بریښنا او رنا ته «برق» وائی او هغه اواز ته چه د دی له سرایته هوا کښی پیدا کیږی «رعد» وائی د «کهر باء» دغه اور تویوونکی شراره کله وریځی او هوا هم څیروی (شلوی) او لاندی لویږی چه له هغی څخه نهایت غریب او عجیب افعال او آثار مشاهده کیږی - علاوه پر دی هغه عمارتونه غورځوی - غرونه سره څیروی (شلوی) د ساکښانو (جاندارو) او ذوی‌الارواحو د هلاکت موجب ګرځی. ځینی اوقات لیدلی شوی دی چه هغه په نهایت احتیاط سره د یو سړی له بدن څخه کالی (جامی) راکاږی، او د یوی ونی پر څانګه ئی ږدی، مګر د اغوستونکی جسم ته هیڅ یو ضرر او صدمه نه ور رسوی د (فرید وجدی دائره المعارف) دی وکوت شی چه د هغه له لیدلو څخه سړی ته داسی خیال پیدا کیږی چه د بریښنا په دغی اور غورځوونکی لمبی کښی ذی شعور او ذی‌اختیار قوت شته چه په غیر مرئی‌طریقی سره کار کوی. مونږ دی ته نه یو اړ (محتاج) او نه

څه ضرورت ورته لرو چه له پاس بيان شوی نظريې څخه انکار وکړو ليکن پر دغي خبری پخپله
هغه بيان کوونکی هم اقرار کوی چه د روح په شان د «کهر بائيه قوت» پر اصلي حقيقت
باندی تر اوسه پوری پرده لويدلی ده. د انبياؤ عليهم السلام او نورو ارباب الکشف والشهود هم
دغه بيان دی چه د عالم په نظام کښې علاوه پر ظاهری او علتي اسبابو د باطني او سری اسبابو
يوه عظيم الشانه سلسله هم حکم کوونکی ده ـ دغه ګرد (تول) شيان چه مونږ ئی وينو، هغه خو
يواځې ظاهری او صوری اشکال دی. ليکن په دغو صورتونو کښې هغه غير مرئی او پټ حقائق چه
پراته دی، د هغو ادراک ته د عمومو افکار او آراء نه وررسيږی ـ يواځې هغه ذوات چه د باطني
سترګو خاوندان دی نو هغه کتلی شي بالاخره هغه نظريات چه تاسی ئی بيانوئ مثلاً د کهر
بائيه ؤ قوت موجبه او سالبه توب او نور د هغه علم هم د څو طبيعي حکماؤ څخه ماسواء بلا
واسطه بل هيڅوا ته نه دی ور څرګند (ښکاره) شوی نو ښائي چه اقلا هم دغومره وثوق د انبياؤ
عليهم السلام پر خبرو، مشاهداتو او تجرباتو وکړی شی، نو يقين دی چه دغه ګرد (تول)
اختلافات به له منځه لری کيدی شي.
له احاديثو څخه دغه خبره څرګنديږی (ښکاره کيږی) چه د نورو طبيعيه ؤ نواميسو په شان د
وريځو او وريا (باران) د انتظاماتو دپاره هم د پرښتو دلی مقرری دی. چه دوی وريځې په مناسبو
مواقعو رسوی او له دوی نه حسب الضرورت والمصلحت د کار اخيستلو په تدابيرو لګيا دی. که
سم د تاسی له بيان سره د وريځو او د ځمکی او نورو د کهر بائيه ؤ مدير کومه غير مرئيه
پرښته وی، نو په دغه کښې د انکار څه وجه ده؟ هغه شی ته چه تاسی د «کهر بائيه شراره»
وايئ کله چه هغه د پرښتي له خاصو تصرفو څخه پيدا کيږی، لهٰذا هغه ته چه د «وحی» په ژبه
سره «**مخاريق من نار** ـ د پرښتو اور توپوونکی متروکه» ويلی شوی ده، نو په دغه کښې تاسی
ته کوم ربړ (تکليف) او اشکال در پيښيږی ـ په شدت او سخت اشتعال سره کوم تنهار او
کرنګهار چه پيدا کيږی که د حقيقت په لحاظ هغه ته د پرښتو په غږ سره تعبير وکړی، نو دغه
به دير ښه او موزون تعبير وی. په هر حال د هغه شي په يواځې صورت باندی چه «سائنس»
پوهيدلی دی، «وحی» د هغه په روح او حقيقت باندی مونږ پوره پوه او مطلع کړی يو ـ نو څه
ضرورت پاتي دی چه خامخا دغه دواړه يو د بل حريف او مقابل سره ودراوه شي. علامه محمود
الالوسی رحمة الله عليه په روح المعاني د «البقرة » په شرح کښې په دغه موضوع باندی معقول
بحث کړی دی فليراجع
( ﴿ وَيُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ ﴾ الآية ـ او ليږی الله تندرونه نو رسوی او غورځوی دغه تندرونه پر هغه چا چه
اراده وفرمائی حال دا چه دغه خلق جګړی کوی په شان د الله کښې حال دا چه سخت دی
عقوبت د ده چه) پر دغو جګړه کوونکو د عذاب تندورنه غورځوی. په حديث کښې دی چه پاک
رسول الله صلی الله وسلم د يوه عرب متکبر رئيس ته يو سړی وليږه چه هغه ماته راوله قاصد د
رسول الله صلی الله وسلم دغه پيغام هغه ته ورسوه او ورته يی وويل چه رسول الله صلی الله وسلم تا
بولی. هغه وويل چه رسول الله صلی الله وسلم څوک دی؟ او الله څه څيز دی؟ د سرو زرو دی؟ که

د سپینو؟، که د مسو ؟ العیاذ بالله. دری ځلی همغه خبره ئی وکړله دریم ځلی کله چه هغه دغه چتی (بیکاره) خبری وکری نو یو ناخاپه یوه وریځ پورته شوه، او علی‌الفور تندر (تکه) پری ولویده او د هغه کوپړی ئی له سر څخه جلا (جدا) کړه په ځینو روایاتو کښی راغلی دی چه عامر بن طفیل او اربد بن ربیعه د رسول الله مبارک په خدمت کښی حاضر شول او وی ویل چه مونږ په دغه شرط سره اسلام راوړو چه وروسته له تاسی اسلامی خلافت مونږ ته ورسیږی، رسول الله صلی الله وسلم د دوی له دغی غوښتنی څخه انکار وفرمایه دوی دا خبره وکړه او له مجلسه پاڅیدل او وی ویل چه مونږ به د مدینی وادی ستاسی د مقابلی دپاره له سپرو او پلیو (سورو او پیادو) څخه ډکه کړو رسول الله صلی الله وسلم وفرمایل چه پاک الله به د هغوی مخه ونیسی او د مدینی انصار به د هغوی مقابلی دپاره ووځی دوی دواړه لاړل په لار کښی پر «اربد» باندی تندر او تکه ولویده او «عامر» یمن شو او په طاعونی خارښت (ګرګ) سره په هلاکت ورسید. فائده د رعد د غږ اوریدلو په وقت کښی ښائی چه داسی وویل شی «**سبحان من یسبح الرعد بحمده و الملائکة من خیفته**»

**اللهم لا تقتلنا بغضبک و لا تهلکنا بعذابک و عافنا قبل ذالک.**

لَهُ دَعْوَةُ الْحَقِّ وَالَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِ لَا يَسْتَجِيبُونَ لَهُم بِشَيْءٍ إِلَّا كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ إِلَى الْمَاءِ لِيَبْلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَالِغِهِ وَمَا دُعَاءُ الْكَافِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَالٍ ﴿١٤﴾

خاص هم دغه (الله) ته دی دعوت (او بلنه) د حق او هغه شیان چه بلنه (عبادت کوی کفار د هغوی) بی له دغه (الله) نه قبلوی دوی (جواب نه ورکوی دغه اشیاء) دغو بلونکو ته په هیڅ شی سره مګر داسی قبلول لکه قبلول د غځوونکی د دواړو (لاسونو غوړوونکی د) ارغویو خپلو طرف د اوبو ته (د کوهی بی رسی او بی‌بوکی) دپاره د دی چه ورسیږی دغه اوبه خولی د ده ته حال دا چه نه دی دغه اوبه رسیدونکی خولی د ده ته او نه ده دعا د کافرانو (بتانو لره) مګر په زیان او بطلان کښی دی.

**تفیسر:** یعنی د هغه ذات بلل پکار دی چه د هر قسم نفع او ضرر مالک دی د عاجزانو د بلنی څخه څه فائده په لاس درځی؟ ماسواء له الله جل‌جلاله څخه بل څوک دی چه د هغه په قبضه کښی ځما یا د بل چا څه نفع او ضرر وی؟ د غیر الله بلل خپل مدد لپاره داسی دی لکه چه کوم تږی د کوهی او څاه پر سر کښی ودریږی او خپل لاسونه اوږده کړی، او د اوبو په لوری خپل

دواړه ارغوی وغوړوی او خوشامد وکړی چه هله ژر شه! بلکه که اوبه د ده په لپه کښې هم وی، نو هغه پخپله د ده خولې ته نه شي تلی. حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليکی «هغه کسان چه کفار ئې بولي او عبادت ئې کوی ځينې خو محض خيالات او اوهام دی ـ او ځينې پيريان شيطانان دی ـ او ځينې داسې شيان دی چه په هغو کښې ځينې خواص دی ليکن د خپلو خواصو مالکان نه دی، نو بيا د هغوی د بلنې څخه څه حاصل؟» لکه اور يا اوبه او ښائی چه ستوری به هم په هم دغه قسم کښې داخل وی.

وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ طَوْعًا وَّكَرْهًا وَّظِلٰلُهُمْ بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ ﴿١٥﴾ السجدة

او خاص الله ته سجده کوی هر هغه څوک چه په اسمانونو کښې دی او په ځمکه کښې دی (تعبداً و انقياداً سره له اسمانونو او ځمکو ځينې) په خوښه او(ځينې) په زور او (سجده کوی) سورې د دغو (مخلوقاتو) په صبا او بيګا کښې (يعنې هميشه).

**تفسير:** حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليکی «هغه چه پر الله تعالیٰ باندې يقين کوی نو په خوښې سره ورته سر ږدی او حکم ئې منی ـ او هغه چه پرې يقين نه لری نو پر هغه باندې بې اختياره د هغه حکم جاری دی او سورې چه صبا او بيګا پر ځمکه باندې غوړيږی هم دا دی د هغوی سجدی» مطلب ئې داسې شو چه که جواهر وی ـ يا اعراض، هيڅ يو شی د الله تعالیٰ د تکوينی حکم څخه نشی خارج کيدی ـ د ده د نفوذ او اقتدار په مخ کښې ګرد (تول) سره مطيع او منقاد، او سر په سجده دی ـ د سورې تزئيد او تنقيص او د خپل اصل په متابعت او د لمر د حرکت پر مخالفت د ښي او کيڼ په لوری ميلان، ګرد (تول) د الله تعالیٰ په مشيت او اراده سره دی. د صبا او بيګا ذکر ښائی د دی له امله (له وجې) فرمايلی وی چه په دغو اوقاتو کښې د سورې امتداد او انتشار ډير زيات او خورا (ډير) ښه ښکاره وی.

قُلْ مَنْ رَّبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ قُلِ اللّٰهُ قُلْ أَفَاتَّخَذْتُمْ مِّنْ دُوْنِهٖٓ أَوْلِيَآءَ لَا يَمْلِكُوْنَ لِأَنْفُسِهِمْ نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا

ووايه (ای محمده! دوی ته) څوک دی رب (پالونکی پيدا کوونکی) د

اسمانونو او د ځمکې، ووایه (ای محمده ! په جواب کښې) چه الله دی! (ځکه چه بل جواب نشته) ووایه (ای محمده ! دوی ته کله چه تاسې پړه او ملزم شوئ) نو آیا پس نیولې دې تاسې بې له دغه (الله) څخه دوستان چه نه دی مالک (نه لري اختیار دوی) دپاره د نفسونو (ځانونو) خپلو د څه نفع (رسولو) او نه د څه ضرر(د دفع کولو)،

**تفسیر:** یعنی کله چه د ربوبیت اقرار یواځې د پاک الله دپاره کوئ، نو بیا د مدد لپاره د نورو دوستانو او مربیانو تجویز د څه دپاره کوئ؟ حال دا چه هغوی د یوې ذرې په اندازه هم د نفعی او د ضرر مستقل اختیار او واک (مجاز) نه لري .

قُلۡ هَلۡ يَسۡتَوِي ٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡبَصِيرُ أَمۡ هَلۡ تَسۡتَوِي ٱلظُّلُمَٰتُ وَٱلنُّورُۗ

ووایه (ای محمده ! دوی ته) آیا برابر دی ړوند (چه کافر دی) او لیدونکی (چه مومن دی) . بلکه آیا برابری دی تیاری (چه شرک او انکار دی) او نور رڼا (چه توحید او معرفت دی ؟ (بلکه نه دی سره برابر ،)

**تفسیر:** یعنی د موحد او د مشرک په منځ کښې داسې یو فرق او توپیر (تفاوت) شته لکه د لیدونکي او ړانده او د توحید دوستان داسې وګڼئ لکه نور (رڼا) او ظلمت (تیاره) نو آیا یو ړوند مشرک چه د شرک په ظلماتو کښې پروت وی ـ او هر لورې ته لاس او پښې اچوی هغه مقام ته رسیدی شي چه هلته هغه موحد رسیږی چه د فهم او بصیرت او د ایمان او عرفان په رڼا کښې د انسانی فطرت په سمه صافه لاره روان وی . له سره دغه دواړه پر یوه نتیجه نه شي رسیدی.

أَمۡ جَعَلُواْ لِلَّهِ شُرَكَآءَ خَلَقُواْ كَخَلۡقِهِۦ فَتَشَٰبَهَ ٱلۡخَلۡقُ عَلَيۡهِمۡۚ
قُلِ ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖ وَهُوَ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّٰرُ ﴿١٦﴾

آیا ګرځولې دی دوی الله لره شریکان چه پیدا کول ئې کړی دی په شان د پیدا کولو د دغه (الله) نو بیا مشتبه شوه (پیدا کول د دی شریکانو سره د پیدائښت (د الله سره) پر دوی باندی ، ووایه (ای محمده ! دوی ته) خاص الله پیدا کوونکی د هر څیز دی او هم دی یو قوی غالب (پر هرڅیز او هر چا).

**تفسير:** يعنى لکه چه الله تعالىٰ ګرد (تول) مخلوقات پيدا کړى دى ، نو ستاسى دغه بتان او باطل معبودان داسى کوم شى پيدا کړى دى ؟ چه د هغه په ليدلو سره د دوى پر خدائۍ ستاسى څه شبهه پيدا شوى وى ؟ دوى خو د مچ يو وزر او د مياشى يوه پښه هم نه شى پيدا کولى او جوړولى ـ بلکه دوى پخپله هم د ګردو (تولو) نورو مخلوقاتو په شان د هغه الله واحد ـ احد ـ صمد مخلوق دى ، نو بيا داسى عاجز او مجبور شيان د خدائۍ پر تخت کښينول څومره ګستاخى او سپين سترګى او بى عقلى او حماقت دى ؟

---

أَنزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَسَالَتْ
أَوْدِيَةٌۢ بِقَدَرِهَا فَاحْتَمَلَ السَّيْلُ زَبَدًا رَّابِيًا ۚ وَمِمَّا
يُوقِدُونَ عَلَيْهِ فِى النَّارِ ابْتِغَآءَ حِلْيَةٍ أَوْ مَتَٰعٍ زَبَدٌ
مِّثْلُهُۥ ۚ كَذَٰلِكَ يَضْرِبُ اللَّهُ الْحَقَّ وَالْبَٰطِلَ ۚ فَأَمَّا
الزَّبَدُ فَيَذْهَبُ جُفَآءً ۖ وَأَمَّا مَا يَنفَعُ النَّاسَ
فَيَمْكُثُ فِى الْأَرْضِ ۚ كَذَٰلِكَ يَضْرِبُ اللَّهُ الْأَمْثَالَ ﴿١٧﴾

---

نازلى کړى دى (الله) له اسمانه اوبه نو وبهيدل خوړونه په اندازه (د ډکيدو) د دوى سره نو په سر راواخيست دى سيلاب ځګ (او خيرى) اوچت شوى (په سر د اوبو) ، او له هغو څيزونو چه بلوى پرى (دا خلق لمبى او ويلى کوى) په اور کښى دپاره د طلب د ګانى يا نور اسباب ځګ (خيره) په شان د هغه (ځګ) ، په مثل د دى (مذکورو مثالونو) بيانوى الله (مثالونه د) حق او د باطل ، نو هر څه ځګ او خيرى نو لاړ به شى په دغه حال کښى چه پريوتى وى له نظره (او بى نفعى به وى) او هر څه هغه څيز چه نفع رسوى خلقو ته (لکه اوبه او ويلى شوى بى غشه فلزات) نو پاتى کيږى په ځمکه کښى (للا نتفاع) ، هم داسى بيانوى الله مثالونه (د حق او د باطل دپاره د متفکرينو).

---

**تفسير:** د اسمان له لورى باران نازليږى چه له هغه څخه نهرونه ، ويالى ، خوړونه ، سيندونه دريابونه بهيږى په هر نهر او خوړ کښى سم د هغه له ظرفيته او ګنجائشه هومره چه د پاک الله اراده وى ، اوبه بهوى په وړوکى کښى لږ ـ او په لوى کښى ډير ، کله چه اوبه بهيږى نو د خاورى ـ خس خاشاک او د نورو له کاره وتليو شيانو له امتزاجه او ګډون څخه خر او مکدر او

خیرن کیږی ـ بیا دغه خره او خیری او ځګ ئی پرسیږی ، او د اوبو په سر راپورته کیږی لکه چه پر سخت تود اور کښی سور او سپین زر مس ژیړ ـ قلعی ـ جست ـ اوسپنه فلزات او نور معدنیات ویلی کوی چه ګانی (کالی) ـ لوښی ـ وسلی توری ـ چړی چوړکی ـ چاکوګان ـ بیاتیګانی (قینچۍ)ـ تبی ـ نغری ـ هرکاری ـ توپ ـ توپک ـ تینکونه ـ طیاری ـ جهازونه ـ موټر ـ ریل ـ یوم ـ تبر او نور د معاش لوازم ـ اسباب او شیان تری جوړ کری ، نو په هغه کښی هم داسی لوخره او ځګ پورته کیږی ـ مګر لږ څه وروسته هغه وچیږی یا خوریږی ـ او هغه ځګ او خیری ئی تری لری او ورک شی ـ او هغه چه اصلی او کارامد شی دی یعنی اوبه یا ویلی شوی معدنی فلزات خالص اوبه به په ځمکه یا د ځمکی د خاوندانو په لاس کښی باقی پاتی کیږی چه له هغه څخه په مختلف دول (طریقه) سره خلق منتفع کیږی ، هم دغه مثال دی د حقو او د باطلو ـ کله چه اسمانی وحیی سره حق دین نازلیږی نو د بنیادمانو زړونه هر یو د خپل ظرفیت او استعداد سره سم له هغه څخه فیض حاصلوی بیا نو حق او باطل یو له بل سره نښلی ، نو دوړی او خیری پورته کیږی ـ او په ظاهر کښی باطل د هم هغه خیری او ځګ په شان حق باندی راخیژی لیکن د هغه دا جزوی جوش او پرسیدل سطحی او عارضی او بی بنیاده شی دی ، او لږ څه مدت وروسته د دی د دغه جوش او خروش هیڅ یوه نښه اثر او پته نه پاتی کیږی او الله خبر دی چه چیری ځی ؟ او هغه اصلی او د کار شی چه د هغو ځګونو لاندی پټ ؤ یعنی حق او صداقت پس همغه پاتی وی . وګورئ چه د پاک الله بیان کری مثالونه څرنګه عجیب وی ؟ او په څومره یوی مؤثری طریقی سره مو پوهوی چه کله په دنیا کښی حق او باطل کذب او صدق سره ونښلی یعنی د دغو دواړو په منځ کښی جنګی مقابله کیږی نو اګر که د څو مودی له مخی باطل پاس او پرسیدلی په نظر راځی ، لیکن بالاخر باطل سره تیت او پرک (منتشر) او همغه حق ظاهر ـ غالب او بریالی (کامیاب) په نظر راځی ، نو هیڅ یو مومن ته نه ښائی چه د باطلو پر عارضی بری او نندارې وغولیږی هم داسی څه وقت چه د کوم انسان په زړه کښی حق ځای ونیسی نو که د څه مودی دپاره پری اوهام او وساوس زور او شور ولګوی ، او خپل قوت ښکاره کری ، نو نه ښائی چه سری تری ویریږی ـ ځکه چه لږ څه مدت وروسته دغه ځګ او پرسیدل پخپله ورک کیږی او خالص حق او صداقت ثابت قائم او مستقر پاتی کیږی . په پخوانیو آیتونو کښی کله چه د توحید او شرک سره مقابله کری شوی وه ، په دغه مثال کښی د حق او باطل د مقابلی کیفیت ئی راوښووه او د دواړو انجام بیخی په واضح دول (طریقه) سره اوس بیان فرمائی

لِلَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمُ الْحُسْنَىٰ

شته لپاره د هغو کسانو چه حکم قبول کری دی دوی د رب خپل (جزا) نیکه (چه جنت دی)،

**تفسیر:** یعنی ایمان او صالح عمل ئې اختیار کړ ـ نو د دوی دپاره د دنیا او آخرت نیکی ده او حقیقی خوښی او قلبی طمانیت او سکون غیر له دوی څخه د بل هیچا نه روزی کیږی .

وَالَّذِينَ لَمْ يَسْتَجِيبُوا لَهُ لَوْ أَنَّ لَهُم مَّا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا وَمِثْلَهُ مَعَهُ لَافْتَدَوْا بِهِ ۚ أُولَٰئِكَ لَهُمْ سُوءُ الْحِسَابِ وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿١٨﴾

او هغه کسان چه نه وی قبول کړی دوی حکم د دغه (الله) که چیری وی دوی ته هر هغه څه چه دی په ځمکه کښې تول (او نور هم وی په مثل د دی له دی سره ( او په تصرف د دوی کښې وی په قیامت کښې ) نو خامخا به فدیه ورکړی دوی په هغو (تولو سره نو نه به خلاصیږی له عذابه) دغه کسان مقرر دی دوی لره بد ( سخت) حساب (چه نه به ئې نیکی قبوله او نه به ئې بدی محو کیږی) او ځای د استوګنی د دوی دوزخ دی او بد ځای د آرام (او خرابه بستره ) ده (دغه دوزخ)،

**تفسیر:** یعنی دلته خو خیر دی په هر قسم چه وی تیریږی ، لیکن په آخرت کښې د دوی حالت به داسی پریشانوونکی او ویروونکی وی که د ګردی (تولی) دنیا خزائن له نقده ، له جنسه ، له شرقه تر غربه ، له شماله تر جنوبه او په مثل د دی مذکورو نور هم وی له ده سره او دا تول بیا په تصرف د کفارو کښې شی په ورځ د قیامت کښې او غوښتنه او تمنا وکړی چه مونږ دغه ګرد (تول) د خپل ځان په فدیه کښې ورکوو چه د هغه په بدل کښې له عذابه خلاص شو او له دغی پریشانی څخه نجات ومومو ، نو له سره به ئې دغه هیله (امید) او ارمان په سر ونه رسیږی «انی لهم ذلک» . او نه په حساب او کتاب کښې به هیڅ قسم رعایت او تیریدل کیږی ـ په هره یوه خبره به په پوره دول (طریقه) سره نیول وی ـ او تنقیدات کیږی ـ او جزا به پری ورکولی کیږی

أَفَمَن يَعْلَمُ أَنَّمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ الْحَقُّ كَمَنْ هُوَ أَعْمَىٰ ۚ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الْأَلْبَابِ ﴿١٩﴾

آیا نو هغه څوک چه پوهیږی په دی خبره چه بیشکه هغه (قرآن) چه نازل

کړی شوی دی تاته له طرفه د رب ستا حق دی (رشتیا) په مثل د هغه چا دی چه دی ړوند وی (د زړه په سترګو ! یعنی نه د هغه په شان !) بیشکه خبره هم دا ده چه پند اخلی (په دی قرآن) خاوندان د عقلونو خالصو .

**تفسیر:** د مومن او د کافر د دواړو انجام بیل بیل د ذکر فرمایلو څخه وروسته تنبیه ورکوی چه داسی انجام د عین عقل او حکمت سره موافق دی هیڅ یو عقلمن داسی نشی ویلی چه یو پوخ ړوند چه هیڅ څیز ئی په نظر نه راځی هم داسی خوشی چتی (بیکاره) په تیاره کښی لویږی او جګیږی (وچتیږی) او بودری (تکری) خوری له هغه سړی سره برابری کولی شی چه د هغه د زړه سترګی هم رونی وی او په پوره بصارت او کامل بصیرت سره د حق له رڼا څخه مستفید کیږی .

الَّذِينَ يُوفُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَلَا يَنقُضُونَ الْمِيثَاقَ ﴿٢٠﴾ وَالَّذِينَ يَصِلُونَ مَا أَمَرَ اللَّهُ بِهِ أَن يُوصَلَ وَيَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ وَيَخَافُونَ سُوءَ الْحِسَابِ ﴿٢١﴾

هغه کسان چه وفا کوی په عهد د الله باندی (چه په ورځی د میثاق ئی ورسره کړی دی) او نه ماتوی دوی (هغه) ټینګ عهد . او هغه کسان چه وصل کوی هغه (شی) چه امر(حکم) کړی دی الله په هغه سره داسی چه وصل دی کړی شی (چه د خپلوی پالنه له خپلوانو سره دوسره دوستی ده له مومنانو ایمان دی په ټولو مومن به شیانو باندی) او ویریږی دوی له عذابه د رب خپل او خوف کوی له بده حسابه (د قیامت)

**تفسیر:** یعنی له الله تعالیٰ سره هغه عهد چه په ازل کښی شوی دی (یعنی د الست عهد) او پر هغه باندی پخپله د انسان فطرت شاهد دی ، او هغه عهد چه د انبیاؤ علیهم السلام له ژبی اخیستی شوی دی ، هغه ګرد (ټول) دوی پوره کوی او د هغه هیڅ یو نه ماتوی ـ او هم بالذات پخپله په هیڅ یوه معامله کښی چه له الله تعالیٰ سره یا د ده له بندګانو سره ئی تړی مشروط په دی چه معصیت نه وی له عهده مخالفت نه کوی او هغه کسان چه وصل کوی هغه شی چه امر او حکم کړی دی الله په هغه سره داسی چه وصل دی کړی شی یعنی صلةالرحم کوی . یا خپل ایمان له عمل سره یا حقوق‌العباد له حقوق‌الله سره یو ځای کوی . یا اسلامی اخوت ټینګ او قائم ساتی . یا د انبیاؤ علیهم السلام په منځ کښی له سره تفریق نه کوی چه یو ومنی په نبوت سره او بل ونه منی او ویریږی له عذابه د رب خپل او خوف کوی له بده حسابه د قیامت یعنی د الله تعالیٰ د عظمت او جلال له تصوره داریږی . او تل تری په فکر او اندیښنه کښی وی ـ او همیشه به په هم دغه چرت (خیال) کښی ډوب تللی وی چه آیا هلته ځما څه حال دی چه د یوی یوی ذری

حساب او کتاب کيږي او څما وضعيت به په دغه وقت کښي څه وي ؟.

وَالَّذِيْنَ صَبَرُوا ابْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً وَّيَدْرَءُوْنَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عُقْبَى الدَّارِ ﴿٢٢﴾ جَنّٰتُ عَدْنٍ يَّدْخُلُوْنَهَا وَمَنْ صَلَحَ مِنْ اٰبَآئِهِمْ وَاَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيّٰتِهِمْ وَالْمَلٰٓئِكَةُ يَدْخُلُوْنَ عَلَيْهِمْ مِّنْ كُلِّ بَابٍ ﴿٢٣﴾ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ ﴿٢٤﴾

او هغه کسان چه صبر کوی لپاره د طلب د رضا د رب خپل (په مالی او جانی مصائبو یا د شرعی یا د جهاد په تکالیفو) او قائموی (سم اداء کوی له تولو حقوقو په ترتیب سره) لمونځ او نفقه کوی (لګوی په لاره د الله کښي) ځینی له هغه (حلالو اموالو) نه چه ورکړی دی مونږ دوی ته هم په پټه او هم په ښکاره (خفیتاً او ظاهراً) او دفع کوی دوی په نیکی سره بدی دغه کسان موصوف په دغو صفاتو شته دوی ته (ښه) عاقبت د دار(د آخرت چه) جنتونه دی د تل اوسیدلو چه ننوځی به دوی په هغو کښي او (ننوځی به پکښي بل) هغه څوک چه صالح (مؤمن) وی له پلرونو د دوی او له ښځو د دوی او له اولادی د دوی (اګر که عمل ئی د هغو په درجه نه وی) او پرښتی به ورننوځی پر دوی (سره له تحائفو او زیری او رضوان) له هری دروازی (مانیو د دوی او وائی به ورته چه) سلامتیا دی وی پر تاسی په سبب د صبر کولو ستاسی (په طاعت او مصیبت او له معصیته) نو ښه عاقبت د دار ( د آخرت عاقبت د تاسی دی)

**تفسیر:** یعنی پر مصائبو او شدائدو او د دنیا پر مکروهاتو صبر وکړ۔ له کومی سختی له ویری د طاعت له لیاری څخه خپل پل ئی غلط کښینښود ۔ او د معصیبت په لوری ئی میلان ونه کړ او دغه صبر او استقلال ئی محض د الله تعالیٰ د رضاء او خوشی د حاصلولو دپاره وکړ ۔ او د دی لامله (له وجی) ئی ونه کړ چه په دنیا کښي خلق ورته ډیر صابر او مستقل مزاج ووائی ، او نه د دی لپاره ئی وکړ چه غیر له صبر څخه بله څه چاره نه وه ور پاتی نو مجبوراً صبر ئی وکړ ۔

او د صابرانو په شان کیناست
(او نفقه کوی لګوی په لاره د الله کښی ځینی له هغه حلالو اموالو نه چه ورکړی دی مونږ دوی ته هم په پټه او هم په ښکاره) پټه ئی ښائی له دی سببه مقدم ایښی ده چه په پټه سره خیرات ورکول افضل دی ـ الا چه چیری شرعی مصلحت په علانیه ورکولو کښی وی
(او دفع کوی دوی په نیکی سره بدی دغه کسان موصوف په دی صفاتو شته دوی ته ښه عاقبت د دار د آخرت چه جنتونه د تل اوسیدلو دی) یعنی د بدی جواب په نیکی سره ورکوی ، د سختی مقابله په نرمی سره ښکاروی که د چا له لوری پری ظلم او تیری وشی ، نو دی تری تیریږی ، وربښی ئی په دی شرط چه د هغه معافی څخه د بدی د ترقی اندیښنه نه وی له بدی څخنی ځان ژغوری (بچ کوی) او نیکی غوره کوی ـ که کله تری کوم بد کار صادر شی ، نو د هغه په مقابل کښی ښه کار کوی یعنی تری توبه وباسی او د هغی ګناه په عبادت او سخاوت سره تلافی هم کوی نو د دی حسنه ؤ اعمالو کوونکی لپاره ښه عاقبت د هغه جهان ور په برخه کیږی

ښوک چه دفع د بدی کړی په نیکی سره ای یاره
او کوی دی تل تر تله په دنیا کښی اته کاره)
د بدی په ځای نیکی کړی او د ظلم په ځای عفوه
او د قطع په ځای وصل کړی د الله رضاء دپاره
او که شی تری معصیت ژر طاعت وریسی وکا
او که ښوک ئی کړ محروم نو دی ورکړی بیشماره
او که شی تری کوم ګناه نو دی توبه وباسی جلته
او که ووینی منکر نو کوی منع له بدکاره
او که مات شی په کوم جنګ کښی د کفارو له لښکره
نو بیا بیرته شی راستون او نه ویریږی له کفاره
ښوک چه دا اته افعال کا اته ورونه د جنت ژر
پری به پرانیځی خالق د دی عمل له اختیاره

﴿ يَدۡخُلُونَهَا وَمَن صَلَحَ ﴾ الآیة ـ چه ننوځی به دوی په هغه کښی او ننوځی به پکښی بل هغه ښوک چه صالح مؤمن وی له پلرونو د دوی او له ښځو د دوی او له اولادی د دوی اګر که عمل ئی د هغو پلرونو په درجه نه وی) یعنی چه په همغه جنت کښی به همیشه اوسیږی او پرښتی به ننوځی پر دوی سره له تحائفو او زیری د رضوان له هری دروازی د مانیو د دوی او وائی به ورته چه سلامتیا دی وی پر تاسی په سبب د صبر کولو ستاسی په طاعت او مصیبت او له معصیته نو ښه عاقبت د دار د آخرت عاقبت د تاسی دی. «د آباء ـ پلرونو» لفظ ئی تغلیباً ویلی دی چه په هغه کښی امهات ـ میندی هم شاملی دی ـ د جنت د زیری سره دغه زیات بشارت یی هم واوروه

چې داسې کاملینو ته د هغو پاس بیان شوی ښو خویونو او خصالو په بدل یو دغه نعمت او خوشالي به هم حاصل وي چه دوی سره له خپلو هغو میندو او پلرونو او اولادونو او ښځو چه د خپل ایمان او نیکی لامله (له وجې) د جنت د دخول لائق شوي وي . گرد (ټول) سره یو ځای کیږي ، تر دې که د دغو متعلقینو د کوم یو رتبه کم هم وي نو حق تعالیٰ پخپله مهرباني سره د هغه رتبه هم لوړوي (وچتوي) ، او دغه کامل سړي سره ئې نژدې کوي لکه چه په (٢٧) جزء د «الطور» په (٢١) آیت اوله رکوع کښې راغلي دي ﴿وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ﴾ له دې نه معلومه شوه چه بې له ایمان او بې له صالح عمله محض د کاملینو قرابت کافي نه دی هو! که ایمان او صالح عمل موجود وي نو د قرابت له تعلقه د درجاتو څه ترقي ممکنه ده والله‌اعلم

﴿وَالْمَلَٰئِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِم مِّن كُلِّ بَابٍ﴾ او پرښتې به ورننوځي پر دوی سره له تحائفو او زیري او رضوان له هري دروازې د مانیو د دوی .) په صحیح حدیث کښې د جنت اته وروته بیان شوي دي . مطلب دا دی چه د دغو کاملینو د تعظیم او تکریم دپاره د الله تعالیٰ پاکي پرښتې به له هر طرفه سره له تحائفو او هدایاؤ راحاضریږي . په احادیثو کښې دي چه له خلق الله ځنې ړومبي به هغه فقراء او مهاجرین په جنت کښې داخلیږي چه په سختیو او مصائبو او جنگونو کښې حاضر شوي دي ، او د دښمن په مخ کښې په ډیر شجاعت او حمیت سره دریدلي دي ، او د هر هغه حکم د تعمیل دپاره به تل حاضر او منتظر او مستعد ولاړ وو ، چه هغوی ته ورکول کیده او د دوی دنیوي حوائج او د زړه ارمان د هغوی په زړونو کښې پاتي شوي وفات ئې موندلي وي . الله تعالیٰ به د قیامت په ورځ کښې وفرمائی ځما هغه بندګان چیرې دي راحاضر دې شي ! چه ځما په لیاره کښې جنگیدلي دي . او ځما لپاره ئې تکالیف گاللي (برداشت کړي) دي او جهاد ئې کړی دی - ځئ بې فکره او اندیښنې په جنت کښې داخل شئ ! بیا پر پرښتو حکم کیږي چه ځما د دغو بندګانو په حضور ورحاضرې شئ ! - او سلام ور واچوئ ! دوی د تعجب او استفادې په طریقه نه اعتراضاً داسې عرض کوي الٰها ! مونږ ستا له بهترینو مخلوقاتو څخه یو - آیا مونږ ته چه ستا د قرب د دربار هستیدونکي یو حکم راکوې چه د دغو د ځمکو هستیدونکو په حضور کښې ورحاضرې شو - او سلامونه ورواچوو ؟ ارشاد کیږي چه هو! دا ځما د هغو بندګانو څخه دي چه پر توحید باندې ئې خپل ځانونه جار (قربان) کړي دي - او سره له دې چه د دوی زړونه له دنیوي ارمانونو څخه ډک ؤ - دوی ځما په لیاره کښې جهاد کړي دی ، او هر تکلیف ئې په ډیرې خوښي سره پر خپل ځان اخیستی دی د دې خبرې د اوریدلو په اثر گردې (ټولې) پرښتې به له هر لوري د دوی په خدمت کښې حاضریږي - او وائي

﴿سَلَٰمٌ عَلَيْكُم بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ﴾ . په حدیث کښې دي چه نبي کریم صلی الله علیه وسلم به د هر کال په ابتداء کښې د شهیدانو پر قبورو تشریف وروړ ، او داسې به ئې فرمایل «سلام علیکم بما صبرتم فنعم عقبی الدار» او د هم دې پاک سنت متابعت به د حضرت ابوبکر - عمر او عثمان رضی الله تعالیٰ عنهم له لوري هم کیده

وَالَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهْدَ اللَّهِ مِن بَعْدِ مِيثَاقِهِ
وَيَقْطَعُونَ مَا أَمَرَ اللَّهُ بِهِ أَن يُوصَلَ وَيُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ أُولَٰئِكَ
لَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوءُ الدَّارِ ﴿٢٥﴾

او هر څه هغه کسان چه ماتوی دوی عهد د الله وروسته د محکموالی د هغه (په قبول او اقرار سره) او پری کوی دوی هغه شي چه امر (حکم) کړی دی الله په هغه سره چه وصل دی کړی شي او فساد کوی دوی په ځمکه کښې (په کفر او ظلم سره) دغه (مذکور) کسان شته دوی ته لعنت لری والی له رحمت د الله (دنیوی عذاب) او شته دوی ته بد عاقبت د دار (د آخرت چه اور دی).

**تفسیر:** د سعداؤ او نیکبختانو په مقابل کښې دلته د اشقیاؤ عادات او خصال او د دوی آخری پای (خاتمه) او انجام ښوولی شوی دی . د اشقیاؤ کار دا دی چه له الله تعالیٰ سره بد عهدی کوی . د هغو شیانو د وصل او پیوند کولو حکم چه صادر شوی وی ، هغه ماتوی . په ملک کښې د فتنی او فساد اور اچوی . پر خپل ځان او نورو باندی له ظلم کولو څخه لاس نه اخلی هم دغه خلق دی چه د الله تعالیٰ له رحمته لری غورځولی شوی دی او له ډیرو بدو ځایونو څخه یو ځای ته رسیدونکی دی.

اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ

الله فراخوی رزق روزی هر هغه چاته چه اراده وفرمائی د (فراخی ئی) او تنگوی (ئی پر هغه چا چه اراده وفرمائی د تنگولو ئی)

**تفسیر:** یعنی د دنیا د عیش او راحت او ارتوالی د لیدلو څخه د سعادت او شقاوت فیصله نه کیږی ـ او نه دغه خبره ضروری ده چا ته چه الله تعالیٰ په دنیا کښې زیاته پیسه او رزق ورکړی وی نو همغه د ده په دربار کښې مقبول هم دی ډیر زیات مقبول بندګان د ازموینی او امتحان په ډول (طریقه) دلته په تنگسه او عسرت سره ژوندون کوی ـ او مردودو مجرمانو ته دلته مهلت او فرصت ورکول کیږی ـ څو هغوی دلته ښې مزی او تفریح وکړی . هم دغه لوی دلیل دی چه د دی ژوندون څخه وروسته یو بل ژوندون هم شته ـ چه هلته به هر سړی د خپل د نیکو او بدو اعمالو پوره پوره بدل او ثمر مومی په هر حال د دنیا تنگی او فراخی د مقبولیت او د مردودیت

معیار له سره نښې کيدی

وَفَرِحُوا بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۭ وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا مَتَاعٌ ﴿٢٦﴾

او خوشاله شوی دی (کفار) په دی ژوندون لږ خسيس ، او نه دی دا ژوندون لږ خسيس په (مقابل د) آخرت کښې مگر لږ متاع (حقير مال)

**تفسير:** يعنی هغه خپل مقصود گڼی . تکبر لوئ او ځانمنمی (خود نمائی) کوی حال دا چه د آخرت په مقابل کښې د دنيا ژوندون بيخی هيڅ او لاشی دی لکه چه يو سړی خپله گوته د سمندر په اوبو لونده کړی ، نو هغه لوندوالی چه د ده گوتی ته رسيږی د سمندر په مقابل کښې هيڅ حقيقت نه لری نو د دنيا حقيقت د آخرت په مقابل کښې دغومره هم نشته . لهٰذا عقلمنو لره ښائی چه پر فانی باندی باقی مقدم کړی . حقيقت دا دی چه دنيا د آخرت مزرعه ده ، او دنيا بالذات پخپله مقصود نه دی ـ نو لازم دی چه د دی ځای له سامانونو او وسائلو څخه داسی تمتع او استفاده وکړی شی چه هغه په آخرت کښې د برۍ او کاميابۍ ذريعه وگرځی لکه چه لويو اصحابو رضوان الله تعالیٰ عليهم اجمعين کړی وو .

وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ۭ قُلْ اِنَّ اللّٰهَ
يُضِلُّ مَنْ يَّشَاۗءُ وَيَهْدِيْٓ اِلَيْهِ مَنْ اَنَابَ ﴿٢٧﴾

او وائی هغه کسان چه کافران شوی دی ولی نه ده رالیږلی شوی پر دغه (محمد) باندی (هغه معجزه په نبوت د ده چه مونږ ئی غواړو) له (طرفه) د رب د ده ؟ ووايه (ای محمده دوی ته بيشکه الله گمراه کوی هغه څوک چه اراده وفرمائی (د گمراهی ئی) او هدايت کوی په طرف خپل (سمه صافه لاره ښيی بی د ليدلو د ايت) هغه ته چه رجوع وکړی (الله ته)،.

**تفسير:** مشرکينو به په سلهاؤ معجزی او نښی کتلی مگر د خپلو هغو خبرو څخه له سره نه اوښتل چه هغه معجزه او نښه چه مونږ ئی غواړو راوښيه ـ مثلاً د مکی معظمی غرونه ځمونږ له شاؤ خوا څخه لری کړه ! چه د کرلو او زراعت لپاره څه وسعت پيدا شی ـ يا ځمکی څيری کړه چينی او ويالی راوبهوه ! يا ځمونږ پخوانی مشران بيا راژوندی کړه ! او له مونږه سره ئی په خبرو او اترو راوله الغرض کومه داسی يوه معجزه راوښيه چه مونږ په ايمان راوړلو باندی مجبور کړی . نو د هغه جواب داسی ورکوی چه بيشکه الله تعالیٰ د داسی معجزی او نښی پر ښوولو

قدرت لري ليکن د ده حکمت او عادت د دې خبرې مقتضي نه دی چه ستاسې د داسې غوښتنې تکميل وکړي ـ د انبياؤ عليهم السلام د تصديق دپاره هومره چه ضرورت دی له هغه څخه زائدې نښې او معجزې در ښوولې شوې دي ، او درښوولې کيږي ـ د نورو سلهاؤ معجزاتو څخه سترګې واړوئ يواځې هم دغه پاک قرآن د نبي الله د صداقت يو عظيم الشان نښان دی کله چه تاسې سره د دغو د ليدلو سره پر سمه ليار رانغلئ ، او د حق په لوري مو رجوع ونه کړه نو معلومه شوه چه سم له قديمي قانون سره د پاک الله مشيت پر هم دې خبرې تللی دی چه تاسې په همغه چه تاسې غوره کړی ليار چه ګمراهي ده خوشي کړي بلاشبهه تاسې سره له دومره لوئ معجزې او نښې د ليدلو سره بيا هم ايمان نه راوړئ او د هغه په لوري رجوع نه کوئ ـ نو دی سم له خپله عادته سره تاسې پر مخ بيائي او تر حقيقي کاميابۍ پورې مو د رسيدلو لياري درښيي ـ کله چه تاسې پخپله هغه نه غواړئ نو د هغه حکمت هم د هم دې خبرې مقتضي دی چه تاسې مجبور نه کړي ، نو بيا د فرمائشي معجزې ښوولو ته څه ضرورت پاتې کيږي بلکه د هغو په نه درښوولو کښې ستاسې فائده ده ځکه چه سنت الله هم دا دی چه فرمائشي معجزې هلته ښوولې کيږي کله چه د کوم قوم تباه او سپيره کول مقصود وي په حديث کښې دی چه الله تعالیٰ فرمايلي دی «ای محمده ! که ته غواړې نو مونږ دغه فرمائشي معجزې هم دوی ته ورښيو ـ که سره له هغه هم دوی ئې ونه مني ، نو بيا داسې يو سخت عذاب به پر دوی نازليږي چه په دنيا کښې بل هيڅ نه وي راغلی ـ او که ته غواړې نو د رحمت او د توبې دروازې به پرانستلې پريږدو» نو رسول الله مبارک دغه دوهم شق غوره کړ ـ لکه چه له هم دغو معاندانه فرمائش کوونکو څخه ډير کسان وروسته له هغه په اسلام سره مشرف شول

---

# الَّذِينَ آمَنُوا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكْرِ اللَّهِ

(دغه رجوع کوونکي) هغه کسان دي چه ايمان ئې راوړی دی او ارام نيسي زړونه د دغو (مومنانو) په ذکر د الله سره ،

---

**تفسير:** دا د الله تعالیٰ په طرف د رجوع کوونکي بيان دی . يعنې د چا چه د ايمان دولت په برخه کيږي نو له ذکر الله يعنې د الله تعالیٰ له ياده اطمينان او دادينه (سکون) حاصلوي ـ ځکه چه له ګردو (تولو) څخه لوی ذکر خو لوی قرآن دی ﴿ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ﴾ چه د هغه په لوستلو په زړونو کښې د يقين کيفيت پيدا کيږي او شيطاني شبهات او وسوسې لرې کيږي ـ او سکون او اطمينان ورميسر کيږي ، له يوه جانبه که د الله تعالیٰ عظمت او مهابت په زړونو کښې خوف او خشيت پيدا کوي ، نو له بل طرفه د رب العٰلمين لامحدود رحمت او مغفرت د قلبي سکون او راحت سامان ورسوي ، الغرض د دوی زړونه له هر لوري څخه مات وي او يواځې د پاک الله په لوري ګرځي ، او د همغه په لوئی‌او قدرت باندې ځان سپاري او

د ذکر الله نور د دوی له قلوبو څخه نور هر ډول (طریقه) دنیوی وحشت او ویره ورکه کوی .

أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ ﴿٢٨﴾

واورئ خبردار شئ چه په ذکر د الله سره مطمئن کیږی ارام نیسی زړونه (د مومنانو) ،

**تفسیر:** یعنی دولت حکومت ـ منصب ـ جائداد او د فرمائشی معجزو لیدل او نور شیان له سره انسان ته حقیقی سکون ، اطمینان او ارام نشی یو ځای کولی ـ یواځی له ذکر الله څخه هغه مع الله تعلق راحاصلیږی چه له هغه څخه د زړونو اضطراب او وحشت لری کیږی .

الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ طُوبَىٰ لَهُمْ وَحُسْنُ مَآبٍ ﴿٢٩﴾

هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه) طوبیٰ (ښه حال) دی دوی ته (له هر حیثه) او ښه ځای د هستوګنی (جنت) دی

**تفسیر:** محقق شیخ الهند رحمة الله علیه د «طوبیٰ» لغوی معنی داسی اخیستی ده «صالح مومنانو لره خوشالی خوښی او د هستوګنی ښه ځای دی» چه په دغه کښی د جنت هغه ونه هم راغله چه په صحیح حدیث کښی د «طوبیٰ» په نامه سره موسومه شوی ده .

كَذَٰلِكَ أَرْسَلْنَاكَ فِي أُمَّةٍ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهَا أُمَمٌ لِّتَتْلُوَ عَلَيْهِمُ الَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَهُمْ يَكْفُرُونَ بِالرَّحْمَٰنِ ۚ قُلْ هُوَ رَبِّي لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ مَتَابِ ﴿٣٠﴾

هم دا رنګه (لکه چه مو لیږلی وو انبیاء پخوا له تا) لیږلی ئی مونږ ته (ای محمده) په داسی یو امت کښی چه په تحقیق تیر شوی دی په خوا له دی نه ډیر امتونه چه ولولی ته پر دوی هغه (قرآن) چه وحی کړی ده مونږ تاته حال دا چه دوی کافران دی په رحمٰن ، ووایه (ای محمده ! دوی ته) چه دغه (رحمٰن) رب زما دی نشته بل هیڅ لائق د عبادت مګر یواځی هم دی دی ،

پر هم ده توکل کړی دی ما او خاص هم ده ته بیا ورتله او رجوع زما دی

**تفسیر:** یعنی همغسی چه مونږ په خپل لوری رجوع کوونکو ته د بری سمه او صافه لیاره ښیو هم داسی مونږ د هغه امت لیار ښوونی دپاره ته ای رسوله زما مبعوث کړی ئی . ته هغه کتاب چه ما پخپل کامله رحمت سره پر تا نازل کړی دی هغوی ته واوروه ! ای محمده صلی الله علیه وسلم ! ستا تاکل (مقررول) او لیږل پر نبوت باندی کومه عجیبه او نوی خبره نه ده ، پخوانیو امتونو ته هم انبیاء لیږلی شوی دی ، نو هغه بد عاقبت او خرابه نتیجه چه د هغو مکذبینو شوی ده ښائی چه هغه احوال دی د دغو خلقو تر نظر لاندی هم وی

( ﴿ وَهُمْ يَكْفُرُونَ بِالرَّحْمٰنِ ﴾ حال دا چه دوی کافران دی په رحمٰن باندی) یعنی رحمٰن پخپل کامل رحمت دغه عظیم‌الشان قران نازل کړی دی ﴿ اَلرَّحْمٰنُ عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ ﴾ او ته مو ای محمده رسول الله صلی الله علیه وسلم رحمة اللعالمین گرځولی او لیږلی ئی ! مگر دوی سختی ناشکری او د نعمت کفران ته ملاوی تړلی دی . د رحمٰن د حق منلو څخه منکران شوی دی بلکه د رحمٰن او رحیم له نامه څخه هم سخت وحشت خوری او تری ترهیږی . نو ځکه د «حدیبیه» په صلحنامی (روغلیکه) کښی دوی پر ﴿ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴾ لیکلو باندی جگړی وکړی .

﴿ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اسْجُدُوْا لِلرَّحْمٰنِ قَالُوْا وَمَا الرَّحْمٰنُ ﴾ (١٩ جزء د الفرقان (١٦) اية (٥) رکوع د لوی قرآن اومه سجده

( ﴿ قُلْ هُوَ رَبِّيْ ﴾ الآية ـ ووایه ای محمده دوی ته چه دغه رحمٰن رب ځما دی نشته بل هیڅ لائق د عبادت مگر هم دی دی پر هم ده توکل کړی دی ما او خاص هم ده ته بیا ورتله او رجوع ځما ده ) یعنی له هغه رحمٰن څخه چه تاسی انکار کوئ همغه ځما رب دی ـ او هم دی همغه الله دی چه بل هیڅ شریک نه لری ﴿ قُلِ ادْعُوا اللّٰهَ اَوِ ادْعُوا الرَّحْمٰنَ اَيًّا مَّا تَدْعُوْا فَلَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى ﴾

(١٥ جزء د بنی اسرائیل ١١٠ آیت ١٢ رکوع د څلورمی سجدی څخه وروستی آیت )

زما ابتداء او انتهاء گرد (تول) د همغه الله تعالیٰ د قدرت په واک (قبضه) او اختیار کښی دی ، زه همغه باندی توکل کوم ـ نه ستاسی د دغه انکار او تکذیب څخه ماته د کوم ضرر اندیښنه شته ـ او نه د هغه له امداد او اعانت څخه بی هیلی (نا امیده) او مایوسه یم

وَلَوْ اَنَّ قُرْاٰنًا سُيِّرَتْ بِهِ الْجِبَالُ اَوْ قُطِّعَتْ بِهِ الْاَرْضُ اَوْ كُلِّمَ بِهِ الْمَوْتٰى ۭ بَلْ لِّلّٰهِ الْاَمْرُ جَمِيْعًا ۭ

او که په تحقیق یو قرآن (داسی وی په عالم کښی چه) روان کیدلی په (لوستلو د ) ده سره غرونه یا څیریدلی توتی کولی شو پری ځمکه یا په خبرو راوستلی شو په هغه سره مړی (نو بیا هم ایمان نه وو راوړی دوی بلکه

(خاص) الله ته دی (اختیار د دی) امر تول (او الله ئی کولی شی هر کله چه اراده وفرمائی)،

**تفسیر:** دلته له قرآن څخه عام کتاب مراد دی ـ لکه چه په یو حدیث کښی پر «زبور» شریف د قران د لفظ اطلاق شوی دی ـ یعنی که کوم داسی یو کتاب لیږلی کیدی چه په هغه سره ستاسی دغه غوښتلی شوی معجزی او نښی پوره کیدی ، نو هغه به پرته (علاوه) له هم دغه قرآن کریم څخه بل کوم کتاب کیدی شو ، هم دغه قرآن عظیم دی چه په روحانی دول (طریقه) سره د غرونو په شان وچ کلک خلق ئی له خپلو ځایونو څخه وخوځول ـ د بنیادمانو د زړونو ځمکه ئی څیری کړه او د الله تعالیٰ د معرفت چینی ئی ورڅخه راوبهولی ـ او د وصول الی الله لیاری ئی د کلونو په ځای په څو شیبو (لحظو) کښی پر دوی پری کړی ـ په مړو قومونو کښی او په مړو زړونو کښی ئی د ابدی ژوندون روح ورننه ایسته ـ کله چه له داسی لوی قرآن څخه تاسی ته شفاء او هدایت روزی نه شو نو فرض ئی کړئ که ستاسی د غوښتنی سره سم دغه عظیم الشان قرآن په مادی او حسی دول (طریقه) سره هم هغه ګرد (تول) شیان تاسی ته دربښیی چه تاسی ئی غواړئ ، نو بیا هم له تاسی داسی هیله (ارزو) او امید نشی کیدی چه تاسی به ایمان راوړئ او نوی نوی حجتونه او کاږه بحثونه به ونه کړئ ـ تاسی داسی ضدیان او سرکشان یئ چه د هیڅ یو برهان ، دلیل او معجزی د لیدلو څخه ایمان نه راوړئ ! اصلی خبره خو هم دا ده چه ګرد (تول) کارونه هدایت او ضلالت د الله تعالیٰ په قدرت او واک (اختیار) کښی دی . د هر چا په نسبت هر څه چه اراده وفرمائی همغسی کوی نو یو ګمراه بی د الله تعالیٰ له ارادی څخه تر قیامته پوری هم هدایت نشی موندلی ـ لیکن د هدایت نعمت د هغه په برخه کوی چه د ده په زړه کښی د حق د قبول غوښتنه او د هغه مینه او محبت پروت وی

اَفَلَمْ يَايْـَٔسِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ لَّوْ يَشَاۤءُ اللّٰهُ لَهَدَى النَّاسَ جَمِيْعًا ۚ

آیا لا نا امیده شوی نه دی هغه کسان چه ایمان لرونکی دی (له ایمان د دغو کسانو په داسی حال کښی چه دغه مومنان پوهیږی) که اراده فرمایلی وی الله (د هدایت د تولو خلقو) نو خامخا به ئی هدایت فرمایلی وی تولو خلقو ته (نو ایمان نه راوړی مګر هغه چه الله اراده د ایمان راوړلو ئی وفرمائی)،

**تفسیر:** ښائی د ځینو مسلمانانو په زړونو کښی داسی خیال پیدا شوی وی چه که یو ځلی د دوی دغه غوښتنی ور پوره کړی شوی وی ګوندی دوی به هم په ایمان مشرف کیدی ـ نو دلته دوی ئی وپوهول چه داده اوسئ که د الله تعالیٰ اراده پر دغه تللی وی چه دوی ګرد (تول) مسلمانان کړی ، نو بی د کومی معجزی د ښکارولو څخه ئی هم دوی ګرد (تول) په سمی

لیاری راوستل لیکن دغه امر د الله تعالیٰ د عادت او حکمت څخه مخالف دی ـ الله جل‌جلاله هر انسان ته تر یوی اندازی پوری د کسب او اختیار اراده ورکوی او د هدایت کافی اسباب ور جمع کوی ، چه که دی وغواړی چه تری منتفع شی ـ نو څه ضرورت دی چه د دوی دغه غوښتنی هم ور پوره کړی شی که سره له دی نه چه د هدایت کافی سامان موجود دی او معاندین ئی ونه منی او خپل ایمان پر چتی (بیکاره) او بیهوده ؤ غوښتنو معلق کړی ـ نو موږ هم داسی اراده نه ده فرمایلی چه دغه به پر ګرد (تول) عالم باندی هرومرو (خامخا) ورقبلولو ځکه چه د ﴿ لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ ﴾ مصداق هم هرومرو (خامخا) پوره کیدونکی دی .

وَلَا يَزَالُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ تُصِيبُهُم بِمَا صَنَعُواْ قَارِعَةٌ أَوۡ تَحُلُّ قَرِيبٗا مِّن دَارِهِمۡ حَتَّىٰ يَأۡتِيَ وَعۡدُ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُخۡلِفُ ٱلۡمِيعَادَ ﴿٣١﴾

او همیشه هغه کسان چه کافران شوی دی رسیږی دوی ته په سبب د هغو عملونو چه کړی دی (د عناد او تکذیب نه) زړه تکوونکی یا خوځوونکی عذاب یا چه ښکته شی (دغه قارعه یا ته ای محمده) نژدی کورونو د دوی ته تر هغه پوری چه راشی وعده د الله (په نصرت د تا او ترقی د دین) بیشکه چه الله هیڅری نه کوی خلاف له وعدی (خپلی).

**تفسیر:** یعنی دغه د مکی معظمی کفار سره د خپلو غوښتلو شویو معجزو او دلائلو د لیدلو هم ایمان راوړونکی نه دی ـ دوی خو به داسی هغه ومنی چه برابر کوم آفت او مصیبت پخپله پر دوی یا د دوی په شاؤ خوا خلقو ولویږی او دوی د هغه د لیدلو څخه عبرت حاصل کړی ـ مثلاً په جهاد کښی د مسلمانانو په لاسونو د دوی څه سړی مړه شی ، یا ئی څه سړی بندیان شی ، او څه ئی د څه نورو مصائبو په منګلو کښی ولویږی ـ دغه سلسله به تر هغه وقته پوری دوام ولری چه د پاک الله وعده پوره شی ـ یعنی مکه معظمه فتحه شی او جزیرةالعرب د شرک له ګندګی څخه پاکه او صافه شی بیشکه د الله تعالیٰ وعده قاطعه او یقینی ده ـ او هرومرو (خامخا) پوره کیدونکی ده ـ ځینو مفسرانو په «او تحل قریباً من دارهم» کښی د رسول الله په لوری خطاب منلی دی یعنی چه تاسی د دوی کلی ته نژدی ورښکته شئ ـ لکه چه په «حدیبیه» کښی وشو ، نو په دغه تقدیر سره له «قارعه» څخه به هغه سرایا مراد وی چه په هغوی کښی رسول الله مبارک بالذات شرکت فرمایلی دی ـ له ځینو اسلافو څخه منقول دی چه دغه آیت د ګردو (تولو) کفارو په حق کښی عام دی او په مکیانو (مکی والاؤ) پوری څه تخصیص نه لری والله اعلم.

وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّن قَبْلِكَ فَأَمْلَيْتُ لِلَّذِينَ كَفَرُوا ثُمَّ أَخَذْتُهُمْ فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ ﴿٣٢﴾

او خامخا په تحقيق مسخرى كړى شوى وى له (نورو ډيرو) رسولانو سره (چه وو) پخوا له تانه (لكه چه ستا قوم په تا پورى كوى) نو مهلت مى وركړى ؤ هغو كسانو ته چه كافران شوى وو (پس له تمسخره څه مدت په عشرت كښى) بيا مى ونيول دوى (په عذاب سره) نو څرنګه به ؤ عقوبت (عذاب زما يعنى ډير سخت ؤ).

**تفسير:** يعنى كه په سزا رسيدلو كښى څه ځند (ايسارتيا) وشى نو داسى مه ګڼئ چه نجات مو وموند پخوانيو مجرمينو ته هم ړومبى مهلت وركړى شوى ؤ بيا كله چه ونيول شول نو وګورئ چه په داسى بده ورځ آخته شول چه تر ننى ورځى پورى د دوى د تباهى او بربادى قصى د خلقو پر ژبو باندى جارى دى.

أَفَمَنْ هُوَ قَائِمٌ عَلَىٰ كُلِّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ وَجَعَلُوا لِلَّهِ شُرَكَاءَ قُلْ سَمُّوهُمْ

آيا نو هغه ذات چه وى دى ولاړ (ساتونكى) پر هر نفس (صالح او طالح باندى) سره له هغه عمل چه كړى وى (او په جزا ئى هم رسوى دا داسى دى لكه هغه څوک چه داسى نه وى بلكه داسى نه دى) او ګرځولى دى (كفارو) الله ته شريكان؛ ووايه (اى محمده ! دوى ته) چه واخلئ نومونه د دوى (او اداء كړئ صفتونه د دوى چه آيا مستحق د عبادت او شركت دى كه نه دى؟)

**تفسير:** يعنى هغه الله چه د هر انسان هر عمل په هر وقت كښى ليدى شى او هر شى د ده د قدرت تر كتنى لاندى دى او يوه شيبه (لحظه) له هيڅ شى نه نه غافليږى كه څوک لږ څه شرارت هم وكړى په همغه وقت كښى ئى جزا وركوى او هم ورته تنبيه وركولى او په سزا ئى رسولى شى، نو آيا مجرم له دى نه ځان خلاصولى شى؟ او چيرى ترى تښتيدلى شى؟ آيا العياذ بالله د ده مثال د هغو د تيږو (ګټو) او نورو بتانو او باطلو معبودانو په شان كيدى شى چه دوى نه ليدلى شى او نه آوريدلى شى ـ او نه د خپلو ځانونو او نه د نورو څخه څه ضرر دفع كولى شى او نه

څه ګټه (فائده) وررسولی شی ـ او نه ئی څه اختیار شته دیر تعجب دی چه د داسی واحد او احد الله له موجودیت سره دوی د داسی عاجز او حقیر مخلوق په مخ کښی ولی سر ښکته کوی؟ او د ده د الوهیت اختیارات ولی هغوی ته پخپل زعم او چرت (خیال) ورسپاری؟ آیا د دی ظلم دپاره څه حد او انتهاء شته چه د علیم الکل او په ګردو (تولو) صفاتو سره موصوف الله شریکان داسی شیان وګرځولی شی چه دوی له خپلو ځانونو څخه هم نه دی خبر ښه وپوهیږئ هر هغه څه چه تاسی په پته یا په ښکاره سره کوئ هغه تول پاک الله ته معلوم دی الله د خلقو د دغو د مشرکیت ګستاخیو څخه بی خبره نه دی او ژر یا په ځند (ایسارتیا) هغوی ته هرومرو (خامخا) سزا ورکوی.

(﴿ قُلۡ سَمُّوهُمۡ ﴾ ووایه ای محمدا رسوله دغو مشرکانو ته چه واخلئ تاسی نومونه د دوی او اداء کړئ صفتونه د دوی چه آیا مستحق د عبادت او د شرکت دی له الله سره؟ که نه دی؟) یعنی لږ څه خو وراندی لاړ شئ او د دغو شریکانو نومونه خو واخلئ! او سراغ او پته ئی راوښیئ! آیا د پاک الله د دغو صفاتو له آوریدلو څخه چه پاس مو واوریدل کوم حیاءداره سری به د هغو تیرو (ګتو) نوم هم اخیستی شی! او که کوم مشرک له بی حیائی څخه د «لات» او «عزیٰ» نوم واخلی نو آیا کوم عاقل به په هغه لوری التفات هم کولی شی؟.

# أَمۡ تُنَبِّـُٔونَهُۥ بِمَا لَا يَعۡلَمُ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَم بِظَٰهِرٖ مِّنَ ٱلۡقَوۡلِۗ

بلکه آیا اخبار کوئ تاسی الله ته په هغه باطل معبودانو باندی چه نه دی معلوم الله ته په ځمکه کښی (یعنی نشته که وی نو معلوم به ؤ الله ته.) بلکه (مسمیٰ کوی دوی شرکاء) په ظاهره وینا سره (بی له اعتباره د معنی)؛

**تفسیر:** یعنی پاک الله ته د تولی ځمکی په مخ کښی د خپل الوهیت هیڅ یو شریک او حصه دار نه دی معلوم ځکه چه هغه خو له سره نشته چه معلوم وی نو آیا تاسی هغه ته داسی شی ښوولی شئ؟ چه ده ته نه دی معلوم ؟ العیاذ بالله.

**تنبیه:** د ځمکی قید ئی ځکه ولګاوه چه د بتپرستانو په نزد د شرکاؤ او اصنامو دیره ځای هم دغه ځمکه ده. ابوحیان رحمة الله علیه د (لایعلم) ضمیر د (م) په طرف اړولی دی یعنی آیا الله ته دغه خبره ښوولی شئ چه ستا په الوهیت کښی حصه داران هغه بتان دی چه لږ څه علم هم نه لری.

( ﴿ أَم بِظَٰهِرٖ مِّنَ ٱلۡقَوۡلِ ﴾ بلکه مسمیٰ کوی دوی شرکاء په ظاهره وینا سره بی له اعتباره د معنی) پخوا ئی وفرمایل چه د دغو شرکاؤ خو لږ څه نومونه راوښیئ! بیا ئی تنبیه وفرمایله چه د هغه شی چه په واقع کښی له سره ثبوت نشته. نو تاسی به ئی نوم څرنګه اخیستی شئ اوس دا راښیی چه د کوم څیز پاک الله ته شریک پیدا کول تش الفاظ محض او یو غږ دی چه د هغه

لاندې هيڅ يو حقيقت نشته له مجردو ظنونو او تخمينو او باطلو اوهامو څو بې‌معنى الفاظ له سره بامعنى نه شي کيدى. ښائي په ﴿ أَم بِظَاهِرٍ مِّنَ الْقَوْلِ ﴾ کښې دې لورې ته هم اشاره وي چه هغه د شرک خبرې چه دوی ئې کوی، که د ړندو له تقليده او تعصبه تش کړی شي او د خپل زړه او وجدان په لورې رجوع وکړي نو پخپله د دوی ضمير به هم له دغو لغوياتو او چټي (بيکاره) خبرو څخه انکار کوی ـ نو د دې له امله (له وجې) ښائي چه وويلې شي چه دغه ګردې (ټولې) داسې سطحي او سرسرې خبرې دي چه انسانی ضمير او د بشريت فطرت هغه مردود او ملعون درولې دی.

بَلْ زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا مَكْرُهُمْ وَصُدُّوا عَنِ السَّبِيلِ ۗ

(داسې نه دی) بلکه ښائسته کړی شوی دی هغو کسانو ته چه کافران شوی دی مکر دروغ د دوی او بند (او اړولی) شوی دی دوی له سمې لارې (د دين څخه) ،

**تفسير:** يعنې هيڅ هم نشته ـ د شرک په حمايت کښې د دوی دغه مستعدی او د توحيد په مقابل کښې دغومره جداوجهد تش د نفس او د شيطان فريب دی چه هم دغه دوی د حق له لیارې څخه ستانه (واپس) او کاږه کړی دی .

وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ ﴿٣٣﴾

او هر څوک چه ګمراه کړی الله (هغه لره) نو نشته ده لره هيڅ لار ښووونکی (د سمې صافې لیارې) .

**تفسير:** يعنې هر هغه چا ته چه الله تعالىٰ د هدايت توفيق ور نه کړی دی به څوک په سمه لیاره راوستی شي ! او الله تعالىٰ همغه ته توفيق ور په برخه کوی چه پخپل اختيار د هدايت وروته پر خپل ځان نه تړی .

لَهُمْ عَذَابٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۖ وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ أَشَقُّ ۖ وَمَا لَهُم مِّنَ اللَّهِ مِن وَاقٍ ﴿٣٤﴾

شته دوی ته عذاب په ژوندانه لږ خسیس کښې ( په قتل ، حبس ، قحط او نورو ربړو (تکلیفونو) سره) او خامخا عذاب د آخرت ډیر سخت دی (له عذابه د دنیا)، او نه به وی دوی ته له عذابه د الله څخه هیڅ ساتونکی .

**تفسیر:** یعني مقرر دی کافرانو ته دنیوی عذابونه د مجاهدینو په لاسونو یا بلا واسطه د قدرت له طرفه او خامخا عذاب د آخرت ډیر سخت دی او نه به وی دوی ته له عذابه د الله تعالیٰ څخه هیڅ ساتونکی یعنی بی له سزا ورکولو څخه به ئی نه پریږدی نو بیا د هغه ځای د سزا ورکولو څخه څه پوښتنه کوئ؟

مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ ۖ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۖ أُكُلُهَا دَائِمٌ وَظِلُّهَا ۚ

مثال (صفت) د جنت هغه چه وعده کړی شوی ده (په هغه سره) پرهیزګاران (دا دی چه) بهیږی (همیشه) له لاندی (د باغونو او مانیو) د هغه (څلور قسمه) ویالی، میوی د هغی (به همیشه بی انتهاء بلا انقطاع) وی او سوری د هغه (به هم همیشه وی بی زواله)،

**تفسیر:** چه د هغه هیڅ نوعه هیڅکله نه ختمیږی ، او تل به همغه شی وررسیږی چه دی ئی وغواړی « لامقطوعة ولا ممنوعة» (د الواقعة اوله رکوع ۳۳ اية ۲۷ جزء)

تِلْكَ عُقْبَى الَّذِينَ اتَّقَوا ۖ وَّعُقْبَى الْكَافِرِينَ النَّارُ ﴿٣٥﴾

دا(جنت) عاقبت (او مرجع) دی د هغو کسانو چه پرهیزګاری کوی او عاقبت (کښې ځای) د کافرانو اور (د دوزخ) دی .

**تفسیر:** یعنی سیوری به هم د تل لپاره راحت او هوسائی (آرام) بښونکی وی نه به هیڅکله د لمر د ګرمی او سورت نه زحمت وی ـ او نه د یخنی تکلیف «لا یرون فیها شمساولا زمهریرا» (د الدهر(۱) رکوع ۱۳ اية ۲۹ جزء) او عاقبت کښې ځای د کافرانو اور د دوزخ دی یعنی له الله جل‌جلاله څخه ویریږئ شرک او کفر پریږدئ په دغه آیت کښې د اهل‌الحق او د اهل‌الباطل خاتمه او انجام یو د بل په مقابل کښې سره بیان وفرمایه **و بضدها تتبین الاشیاء**

وَالَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَفْرَحُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمِنَ الْاَحْزَابِ مَنْ يُّنْكِرُ بَعْضَهٗ ؕ

او هغه كسان چه وركړى دى مونږ دوى ته كتاب (او بيا ئى اسلام هم راوړى دى) خوشاليږى په هغه (قرآن) چه نازل شوى دى تاته او ځينى له فرقو (د اهل الكتب) څخه هغه دى چه نه منى ځينى احكام د دى (قرآن)،

**تفسير:** هغوى ته چه اوس قرآن كريم وركړى شوى دى يعنى مسلمانان او هغوى ته چه پخوا له دى نه تورات ـ انجيل او نور وركړى شوى دى يعنى يهودان او نصرانيان د هغه شي د اوريدلو څخه خوشاليږى چه پر تاسى نازل كړى شوى دى د مسلمانانو خوښيدل خو ظاهر دى چه دوى هم دغه كتاب د دارينو د فلاح مفتاح (كونجى) ګڼى باقى په يهودو او نصارىٰ ۈ كښى هغه خلق چه اهل العلم او د انصاف خاوندان او فى الجمله حق منونكى وو نو هغوى ته هم د يوه راز (قسم) مسرت موقع وه ځكه چه هغوى به ليدل چه لوى قرآن په څه ارته سينه د دوى د اصلى كتابونو په تصديق او د انبياؤ په تعريف او تعظيم كښى رطب‌اللسان دى ، بلكه د رښتينو احبارو او رهبانانو وجود هم په مدح كښى معروض شوى دى
﴿ ذٰلِكَ بِاَنَّ مِنْهُمْ قِسِّيْسِيْنَ وَرُهْبَانًا ﴾ (د المائده ١١ ركوع) لكه چه هم داسى قسم منصف او حق خوښونكى يهود او نصارىٰ بالاخره په اسلام سره هم مشرف شول .
(او ځينى له فرقو د اهل الكتاب هغه دى چه نه منى ځينى احكام د دى قرآن) يعنى يهود او نصارىٰ يا د عربو جاهلانو هغه جماعات هم دى چه له پاک قرآن څخه ځكه ناخوښ دى چه دوى د دى قرآن د ځينو شيانو څخه انكار كړى دى ـ او دا همغه شيان دى چه د دوى د تحريف او تبديل يا د آراؤ او اهواؤ په خلاف دغه لوى قرآن بيان فرمائلى دى .

قُلْ اِنَّمَآ اُمِرْتُ اَنْ اَعْبُدَ اللّٰهَ وَلَآ اُشْرِكَ بِهٖ ؕ اِلَيْهِ اَدْعُوْا وَاِلَيْهِ مَاٰبِ ﴿٣٦﴾

ووايه (اى محمده ! دوى ته) بيشكه امر (حكم) شوى دى ماته په دى چه عبادت كوم زه د الله او شريک نه نيسم له دغه (الله) سره (هيڅوک په عبادت كښى)، خاص د همغه طرف ته بولم (تمام عالم) او خاص هم ده ته دى ورتله (ځما او د تولو په عقبىٰ كښى)

**تفسير:** يعنى كه څوک خوښ وى يا ناخوښه وى زه د هغه وحده لاشريک له الله جل وعلا بندګى

کوم چه هغه ګردو (تولو) انبیاؤ علیهم السلام او مللو بالاتفاق منلی دی ـ د ده د احکامو او مرضیاتو په لوری ګرد (تول) جهان ته دعوت ورکوم ، او ښه پوهیږم چه ځما خاتمه د هغه د قدرت په لاس کښې ده او زه د همغه په لوری رجوع کوونکی یم ـ او همدلته ځما د هستوګنی ځای دی او همغه به بالاخر ما غالب او منصور او مخالفین می مغلوب او مقهور ګرځوی ، نو ځکه د هیچا د خلاف او انکار څخه زه له سره پروا نه کوم .

وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَٰهُ حُكْمًا عَرَبِيًّا ۚ وَلَئِنِ ٱتَّبَعْتَ أَهْوَآءَهُم بَعْدَ مَا جَآءَكَ مِنَ ٱلْعِلْمِ ۙ مَا لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن وَلِىٍّ وَلَا وَاقٍ ﴿٣٧﴾

او لکه (چه نورو انبیاؤ ته پخوا مو کتابونه لیږلی ؤ په ژبو د قومونو د دوی) نازل کړی لیږلی مو دی دغه (قرآن) حکم کوونکی په عربی ژبه، او قسم دی که متابعت وکړی ته (ای محمده!) د خواهشونو د دغو (مشرکانو او کتابیانو) وروسته له هغه چه راغلی دی تاته علم (په توحید او په نسخ د دین د دوی) نو نه به وی تاته له جانبه د الله څخه هیڅ ولی (یار مددګار) او نه ساتونکی (له عذابه د الله)

**تفسیر:** یعنی لکه چه ړومبی پخوانی کتابونه رالیږلی شوی دی ، په دغه وقت کښې دا قرآن رانازل کړ شو چه پر لوړ (وچت) او عظیم الشان معارفو او حکمونو مشتمل او د حق او باطل آخری فیصله کوونکی دی بیا همغسی چه هر نبی ته په همغه ژبه کښې کتاب ورکړی شوی دی چه د هغه قومی ژبه وه ، هم داسی محمد عربی صلی الله علیه وسلم ته هم عربی قرآن ورکړی شوی دی ـ بلاشبهه د دی عظیم‌الشان قرآن په شان معجز او جامع کتاب ښائی په هم داسی یوی ژبی نازلیده چه نهایت بلیغ ـ وسیع جامع ـ منضبط ـ واضح او پرمغز وی او د پرشوکت‌توب له امله (له وجی) د «ام الالسنه» او ملکة اللغات ویلو وړ (لائق) او مستحق وی .
( ﴿ وَلَئِنِ ٱتَّبَعْتَ أَهْوَآءَهُم ﴾ الآیة ـ او قسم دی که متابعت وکړ تا ای محمده ! د خواهشونو د دغو مشرکانو او کتابیانو وروسته له هغه چه راغلی دی تاته علم په توحید او په نسخ د دین د دوی نو نه به وی تاته له جانبه د الله تعالیٰ څخه هیڅ ولی یار مددګار او نه ساتونکی له عذابه) یعنی د هیچا د انکار او د ناخوښی د یوی ذری په قدر پروا مه کوئ ! هغه کامل او عظیم علم چه الله تعالیٰ تاته درکړی دی د همغه متابعت کوئ ! که بالفرض د دی خلقو د دغو غوښتنو په لوری متمائل شوئ نو د هغه له وبال څخه به دی څوک وژغورلی (بچ کړی) شی ؟ دغه خطاب د حق ګردو (تولو) طالبانو ته دی ـ اګر که دلته پخپله رسول اکرم صلی الله علیه وسلم مخاطب دی ، خو مقصود له دوی سره خطاب او نورو ته اورول او لارښوونه ده په صواب لکه چه پخوا له دی

نه په څو نورو ځايونو کښې د ده اشباه او نظائر تير شوي دي .

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّن قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ أَزْوَاجًا وَذُرِّيَّةً ۚ وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأْتِيَ بِآيَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ ۗ لِكُلِّ أَجَلٍ كِتَابٌ ﴿٣٨﴾

او خامخا په تحقيق ليږلي ؤ مونږ ډير رسولان (انسانان) پخوا له تانه (لکه چه راليږلي مو ئې ته) او ورکړي ؤ مونږ دوی ته ښځي او اولادونه ، او نه ښائيږي دپاره د هيڅ رسول (او نه توانيږي) دا کار چه راوړي داسي يوه معجزه (چه خلق ئې غواړي) مگر په اذن (تقدير) د الله سره ، دپاره د هر وقت او حادثي يو حکم دی (چه پخپله نيته همغسي کيږي).

**تفسير:** يعني عربي رسول ته نوی کتاب او نوی احکام ورکول او مبعوثول کومه نوی او عجيبه خبره ده ؟ چه دومره حجتونه پيدا کوی ـ آخر مونږ پخوا له دی نه هغه انبياء عليهم السلام چه ليږلي دی ، هغوی د اسمان پرښتی نه وی . او د هم دی دنيا له هستيدونکو څخه انسانان ؤ ، چه ډودی به ئې خوړه او خپل گرد (تول) ضروريات به ئې پخپلو لاسونو سره پوره کول ـ او د ښځو او وړوکيو خاوندان به ؤ ـ په دوی کښې هيڅ يوه د دی خبری قدرت نه درلود (لرلو) چه هرومرو (خامخا) همغه خلقو ته وروښيي چه هغوی ئې غواړي بلکه د موجوده رسول الله په شان هر شي کښې د پاک الله اذن ته منتظر ؤ ـ او همغه معجزی به ئې ورښولي ـ او همغه احکام به ئې اورول چه د هغه اذن د الله تعالىٰ له درباره کيده . د الله تعالىٰ د اذن حال دا دی چه د ده په دربار کښې د هری زمانی او هر قرن په تناسب سره بيل بيل احکام ليکلي شوی دي ـ او يوه داسي وعده تاکلي (مقرر کړی) شوی ده چه د هغي د اړولو او تبديلولو صلاحيت نه انبياؤ ته شته او نه پرښتو ته ـ بيا کله چه هر نبی د خپلي زمانی سره مناسب احکام راوړي ، او د خپل صداقت ورښوولو دپاره د عمومو د غوښتنو تکميل ته اړ (محتاج) او مجبور نه وی ـ او نه ئې خپل ځان د بشريه ؤ حوائجو او معاشرتي تعلقاتو څخه بی پروا او پورته ظاهر کړی وی ، نو د هم دغو شيانو موجوديت په محمد رسول الله کښې د دوی له نبوت څخه د انکار دليل څرنگه کيدی شي ؟.

يَمْحُو اللَّهُ مَا يَشَاءُ وَيُثْبِتُ ۖ وَعِندَهُ أُمُّ الْكِتَابِ ﴿٣٩﴾

محوه کوی الله هغه چه اراده وفرمائي (د امحا ئې) او ثابتوی (هر هغه چه اراده وفرمائي د اثبات ئې) او په نزد د الله اصل د هر کتاب (علم الله يا

لوح محفوظ) دی (چه هر شي پکښې ليکلی شوی دی).

**تفسير:** يعنی سم له خپل حکمت سره د هر حکم د منسوخيت ـ يا د هر حکم د دوام اراده چه وفرمائي ـ او هر قوم د محوه کولو ، او د هغو په ځای د بل قوم د درولو ـ او د هغو اسبابو د تاثير د بدلولو ، او د هغو وسائلو د تاثير د پرېښوولو ـ او سره د موجوديت د شرائطو د يوی وعدی اظهار او بی د شرائطو له موجوديت د بلی وعدی د نه ظاهرولو، الغرض هر قسم تبديل او تغيير، محوه او اثبات، نسخ او احکام د ده د قدرت او مشيت په لاس کښې دی ـ د قضاء او قدر تمام دفاتر د ده په قبضه کښې دی او د ګردو (ټولو) تفصيلاتو او دفاترو اساس ته ښائی چه «ام الکتاب» ووايه شی، له ده سره دی ام الکتاب يعنی د «ازلی محيط علم» چه له هر راز (قسم) تبديل او تعبير څخه قطعاً منزه او مبری او د لوح محفوظ ماخذ دی . حضرت شاه صاحب ليکی «په د نيا کښې هر شي په اسبابو سره دی ـ ځينی اسباب ښکاره ځنی پټ دی ـ د اسبابو تاثير يوه طبيعی اندازه لری ـ کله چه الله تعالیٰ اراده وفرمائی د هغو تاثير له اندازی څخه کم يا زياتوی ، او کله ئی همغسی پرېږدی ـ انسان کله په ګټو (شکو) سره مری ـ أو کله مردک او ګولی څخه هم ژوندی پاتی کيږی ، او د هر شي يوه اندازه د الله تعالیٰ په علم کښې شته چه هغه له سره نه بدليږی . اندازی ته «تقدير» وائی دغه سره دوه تقديرونه شول ـ يو هغه چه بدليږی ـ او بل هغه چه نه بدليږی هغه «تقدير» ته چه بدليږی «معلق» او هغه ته چه نه بدليږی «مبرم» وائی

له هغو احاديثو او آثارو څخه چه ځينو افاضلو ته د مبرمی قضاء د بدليدلو شبهه پيدا شوی ده ـ د هغه متعلق دلته د تفصيل موقع نشته ، هغه به انشاء الله تعالیٰ په مستقل تفسير کښې ليکل شي . که الله تعالیٰ توفيق راکړ . هوالموفق والمستعان.

وَإِن مَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِي نَعِدُهُمْ أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلَاغُ وَعَلَيْنَا الْحِسَابُ ﴿٤٠﴾

او که وښيو مونږ خامخا تاته (په حيات د تا) ځينی له هغه (عذابه) چه وعده ئی کوو مونږ له دغو (کفارو) سره (د دی عذاب نو هغه به ووينی) يا که وفات کړو مونږ تا (په خوا له دی تعذيبه د کفارو نو پر تا څه ملامتيا نشته بس) نو بيشکه هم دا خبره ده چه په تا رسونه د پيغامونو (او بيانول د احکامو) دی او پر مونږ دی حساب (او جزا ورکول د دوی).

**تفسير:** يعنی هغه وعده چه مونږ له دوی سره کړی ده مونږ اختيار لرو چه له هغو ځينی اوس

ستاسی په ژوندون پوره کړو ، یا د تاسی له وفاته ئی وروسته ظاهره کړو ـ نه ښائی چه تاسی د هغو د ظهور په فکر کښی ولویږئ ـ او نه هغو خلقو لره لازم دی چه د دغه تأخیر او امهال له لیدلو څخه بیفکره شی ـ د الله تعالیٰ په علم کښی د هر شی دپاره یو مناسب وقت مقرر دی ، چه د هغو په رسیدلو سره هغه خامخا ښکاریږی تاسی د خپل تبلیغ فریضه اداء کړئ، د مکذبینو حساب مونږ پخپله ګورو او خلاصوو ئی .

أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا نَأْتِي الْأَرْضَ نَنقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَا ۚ وَاللَّهُ يَحْكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهِ ۚ وَهُوَ سَرِيعُ الْحِسَابِ ﴿٤١﴾

ایا نه ګوری (کفار) چه په تحقیق مونږ راځو مونږ ځمکی (د دوی) ته چه کموو ئی (فتحه کوو ئی مسلمانانو ته) له څنډو (غاړو) د دی ، او الله حکم کوی (په هر څه چه اراده وفرمائی) نشته هیڅوک رد کوونکی دپاره د حکم د الله او الله ډیر ژر دی حساب (د ده نو ژر حساب به ورسره کوی په آخرت کښی هم).

**تفسیر:** یعنی د مکی معظمی د ځمکی په شاؤ خوا کښی د اسلام اثر خوریږی ، او د کفر رسم او رواج ورځ په ورځ کمیږی ـ د لویو لویو قبائلو او اشخاصو په زړونو کښی د اسلام نور او تاثیر ځای نیسی ـ د (اوس) او (خزرج) زړونه د حق او صداقت په مقابل کښی مفتوح شوی دی ـ هم داسی مونږ ورو ورو د کفر حکومت کمزوروو ـ او قوت او قدرت ئی کموو نو آیا دغه روښانه آثار دغو مکذبینو ته دا نه ورښیی چه د پاک الله فیصله د دوی د مستقل په متعلق شوی ده . یو عقلمن سړی پر دی ښه پوهیږی په هغه تګ چه نن اسلام پری پر مخ ځی ، د هغه مخه هیڅ یو طاقت نشی نیولی ـ لهٰذا د خاتمی خیر او ښیګڼه (فایده) په هم دی کښی ده چه هغه راتلونکی شی ، راغلی او واقعی شی وګڼی

( ﴿ وَاللَّهُ يَحْكُمُ ﴾ الآیة ـ او الله تعالیٰ حکم کوی په هر څه چه اراده وفرمائی الخ) یعنی د الله تعالیٰ تکوینی حکم او فیصله قاطع او له خپله ځایه له سره خوځیدونکی نه ده هر کله ئی چه وقت راشی ، نو هیڅ یو طاقت او قوت د هغه مخه نشی نیولی ، او نه د یوی شیبی (لحظی) دپاره ئی ملتوی کولی شی .

( ﴿ وَهُوَ سَرِيعُ الْحِسَابِ ﴾ او الله تعالیٰ ډیر ژر دی حساب د ده ) یعنی څه مهال (وخت) چه د حساب وقت راشی ، نو بیا به هیڅ ډیر او ځنډ (تاخیر) نه لګیږی ـ یا هغه شی چه په یقین سره راتلونکی دی ، نو هغه خامخا جلت وبوله .

وَقَدۡ مَكَرَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ فَلِلَّهِ ٱلۡمَكۡرُ جَمِيعٗاۖ يَعۡلَمُ مَا تَكۡسِبُ كُلُّ نَفۡسٖۗ وَسَيَعۡلَمُ ٱلۡكُفَّٰرُ لِمَنۡ عُقۡبَى ٱلدَّارِ ﴿٤٢﴾

او په تحقيق مكر فريب كړى ؤ (له خپلو انبياؤ سره) هغو (كفارو) چه پخوا له دغو (كفارو) څخه ؤ (لكه چه دغه كفار مكر كوى له تاسره اى محمده) نو خاص الله لره ده (جزا) د مكرونو ټولو ، معلوم دى الله ته هر هغه (ښه او بد) كار چه كوى ئى هر نفس ، او ژر به پوه شى (په قيامت) كفار چه چاته به و (ښه) خاتمه د دار (د آخرت) .

**تفسير:** يعنى كه د پاک الله اراده نه وى نو ګرد (ټول) مكر او فريب بى اثره پاتى كيږى ـ يا دا چه الله تعالىٰ د دوى هغه ګرد (ټول) فريب او مكر ماتوى . «مكر» په اصل كښى خفيه تدبير ته وائى . كه د بدى دپاره وكړ شى بد دى ، او كه د ښو چارو او د بدى د لرى كولو دپاره وكړ شى ښه دى ـ يعنى دوى په پټه پټه سره ناپاكه تدابير وكړل ـ ليكن د الله تعالىٰ تدبير پر ګردو (ټولو) باندى غالب شو او سر چپه (البته) هغه ګرد (ټول) تدابير پر دوى باندى غورځوى . «ولا يحيق المكر السيئ الا باهله» (٢٢ جزء د فاطر (٤٣) اية (٥) ركوع)

﴿يَعۡلَمُ مَا تَكۡسِبُ كُلُّ نَفۡسٖ﴾ معلوم دى الله ته هر هغه ښه او بد كار چه كوى هر نفس) يعنى چه له هغه څخه هيڅ يو حركت او سكون پټ او ښكاره كار نه دى پټ ـ د ده په حضور كښى د هيچا مكر او فريب نشى چليدى ، او دى به پر دغو مكارانو باندى ډير بدمزه خوند وڅكوى .

﴿وَسَيَعۡلَمُ ٱلۡكُفَّٰرُ لِمَنۡ عُقۡبَى ٱلدَّارِ﴾ او ژر به پوه شى په قيامت كښى كفار چه چاته به وى ښه خاتمه د دار د آخرت يعنى لكه چه پخوانيو د خپلو مكرونو او فريبونو پاى (آخر) او انجام ليدلى دى نو موجوده ؤ كفارو ته به هم د وروستنى عافيت قدر ورښكاريږى او سخت سخت مصيبتونه او ربړونه (تكليفونه) به وګالى (برداشت كړى).

وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَسۡتَ مُرۡسَلٗاۚ قُلۡ كَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدَۢا بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡ وَمَنۡ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلۡكِتَٰبِ ﴿٤٣﴾

او وائي هغه کسان چه کافران دی (تاته ای محمده !) چه نه ئي ته ليږلی شوی (د الله له لوری په نبوت سره) ، ووايه (ای محمده دوی ته) بس کافی دی الله شاهد په منځ زما او ستاسی او بل (کافي دی په شاهدی کښی) هغه څوک چه په نزد د ده علم د کتاب دی (جبرئيل).

---

**تفسير:** يعنی ستاسی له تکذيب څخه هيڅ نه کيږی ، ځکه چه الله قدوس زما د صداقت لوئ لوئ نښی دربښيی ـ قرآن کريم چه د الله تعالیٰ کلام دی لکه چه پخپل کلام الله توب باندی شهادت ورکوی هم داسی زما د نبوت پر حقانيت هم شاهد دی ـ که سترگی وغړوئ نو په سختو ناموافقو حالاتو کښی د صداقت په داسی ښه شان سره خوريدل ـ او د دښمنانو تر زړونو پوری دغه خپل اثر غورځول ـ او د دروغو مغلوب او مقهور کيدل ـ او په يوه لوری سره غونديدل او د اسلام نور موفقيت د الله تعالیٰ له جانبه زما پر حقانيت باندی ښکاره دليل او شهادت دی ﴿وَمَنۡ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلۡكِتَٰبِ﴾ . او بل کافی دی په شاهدی کښی هغه څوک چه په نزد د ده دی علم د کتاب يعنی د لوح محفوظ دغه جبرئيل او مؤمنان دی يعنی هغه څوک چه د قرآن له علمه خبردار او د ده پر حقانيت مطلع دی ، دی هم د دی شاهد دی چه ماله خپله ځانه څه دورغ نه دی جوړ کری لکه اهل د بلاغت او فصاحت له مومنانو يا عالم په علم د لوح محفوظ لکه جبرئيل عليه السلام او هم هغه کسان لکه عبدالله بن سلام او ملگری د دوی چه له پخوانيو سماويه ؤ کتابونو ـ او د هغو له پخوانيو ويلو څخه اطلاع لری ، د هغو زړونه گواهی ورکوی چه محمد صلی الله عليه وسلم سم له همغه پخوا ويلو سره سم تشريف راوړی دی چه په سلهاؤ کلونو پخوا له دی نه موسٰی او عيسٰی عليهما وعلیٰ نبيتا الصلوٰة والسلام فرمايلی ؤ .
«**ای الله العٰلمينه!** ته شاهد اوسه د هغه شی شهادت چه تا او ستا کتاب لرونکو ورکری دی دغه عاجزان او خاطيان هم د زړه له کومی او په پوره صداقت همغه شهادت اداء کوی

**فاکتبنا مع الشاهدين والصادقين والشاکرين**
**تمت سورة «الرعد» بعون الله و حسن توفيقه**

سورة ابراهيم مكية الا الايتين ٢٨ و ٢٩ فمدنيتان
وهى اثنتان و خمسون آية و سبعة ركوعات رقمها (١٤) تسلسلهاحسب النزول (٧٢) نزلت بعد
سورة «نوح»

د ابراهیم سورت مکی دی پرته (علاوه) له (٢٨) او (٢٩) آیتونو څخه چه مدنی دی. (٥٢) آیته او (٧) رکوع لری . په تلاوت کښې (١٤) او په نزول کښې (٧٢) سورت دی . وروسته د نوح له سورت څخه نازل شوی دی)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

شروع په نامه د الله چه خورا (ډیر) مهربان ډیر رحم والا دی

الٓر ۚ كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ ٱلنَّاسَ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى
ٱلنُّورِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَمِيدِ ﴿١﴾ ٱللَّهِ ٱلَّذِى لَهُۥ مَا
فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۗ وَوَيْلٌ لِّلْكَٰفِرِينَ مِنْ عَذَابٍ شَدِيدٍ ﴿٢﴾
ٱلَّذِينَ يَسْتَحِبُّونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا عَلَى ٱلْءَاخِرَةِ وَيَصُدُّونَ عَن
سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ فِى ضَلَٰلٍۭ بَعِيدٍ ﴿٣﴾

(دا قرآن) یو کتاب دی چه نازل کړی (لیږلی) دی مونږ تاته دپاره د دی چه راوباسی خلق (په دی کتاب سره) له تیارو د کفر څخه رڼا د ایمان ته په اذن (اراده ، توفیق) د رب د دوی (طرف د) لاری د هغه الله ته چه ښه غالب دی (په انفاذ د احکامو) ښه تل ثنا ویلی شوی دی (په محامدو) هغه الله چه خاص ده ته دی هر هغه چه په اسمانونو کښې دی (له علویاتو) او هر هغه چه په ځمکه کښې دی (له سفلیاتو سره د اسمانونو او د ځمکو) او خرابی (عذاب ، مصیبت ، اور) دی دپاره د کفارو له عذابه سخته ، هغه کفار چه خوښوی (او غوره کوی له ډیره حماقته) ژوندون لږ خسیس پر آخرت او اړوی (خلق) له لاری د الله (چه دین او متابعت د رسول الله دی) او لټوی دوی دغی لاری ته کوږوالی ، دغه کسان په ګمراهی لری کښې دی

(له حقه)

**تفسیر:** یعنی د دی کتاب د شان عظمت له دغی خبری څخه ښائی وکړ شی چه مونږ د هغه نازل کوونکی یو ، او ستاسی په شان یو رفیع‌الشان شخصیت د هغه حامل او راوړونکی دی ـ او مقصد ئی هم دومره اعلیٰ او ارفع دی چه له هغه څخه بل لوړ او لوی مقصد نشی جوړیدی ، او هغه دا دی چه د الله تعالیٰ په حکم او توفیق د تمامی دنیا خلق اعم له دی نه چه عرب وی یا عجم ـ تور وی که سپین ـ مزدور وی که په شتو معمور ـ باچا وی که رعایا گرد (تول) سره د جهالت له لوگیو ـ دوړو ـ خاورو څخه را ایستل ، او د ایمان او ایقان په رڼا کښی د درولو کوشش کاوه شی .

( ﴿ اِلٰی صِرَاطِ الْعَزِیْزِ الْحَمِیْدِ ﴾ طرف د لاری د هغه الله ته چه ښه غالب دی په انفاذ د احکامو ښه تل ثنا ویلی شوی دی په محامدو) یعنی د صحیح معرفت په رڼا کښی پر هغی لاری لاړ شئ چه د زبردست او غالب او په ستایلو شویو صفاتو سره مطلق شهنشاه او مالک الملک الله له جانبه ښوولی شوی ده او د ده د رضاء تر مقام پوری رسوونکی ده

( ﴿ وَوَیْلٌ لِّلْکٰفِرِیْنَ مِنْ عَذَابٍ شَدِیْدٍ ﴾ او خرابی عذاب مصیبت اور دی دپاره د کفارو له عذابه سخته) یعنی هغه خلق چه د داسی کتاب له نازلیدلو څخه وروسته هم د کفر او شرک او جهالت له ظلماتو څخه نه وځی ، نو هغوی ، سخت عذاب او هلاکت او مصیبت سره په آخرت یا په دنیا کښی مخامخ کیدونکی دی.

( ﴿ اِلَّذِیْنَ یَسْتَحِبُّوْنَ الْحَیٰوةَ الدُّنْیَا عَلَی الْاٰخِرَةِ ﴾ الآیة ـ هغه کفار چه خوښوی غوره کوی له دیره حماقته ژوندون لږ خسیس پر آخرت او اړوی خلق له لیاری د الله چه دین او متابعت د رسول الله دی او لټوی دوی دغی لیاری ته کوږوالی دغه کسان په گمراهی لری کښی دی له حقه) دغه د کفارو د حال بیان فرمائی ، چه د هغوی برستن او نیالی (تولایی) هم دغه دنیا ده او د آخرت په مقابل کښی همغه غوره کوی او ترجیح ورته ورکوی ـ او شپه او ورځ د همغه په مینه او محبت کښی ډوب تللی دی ، او غواړی چه نور خلق هم د هغه په مینه او محبت کښی سره اخته کړی او د الله تعالیٰ له خوښی شوی لاری څخه ئی منع کړی ـ نو ځکه دوی په هم دغه چرت (خیال) او فکر کښی دی چه د الله تعالیٰ په دین کښی څه ناڅه عیب وباسی او د همغه سمه صافه لاره کږه او خرابه ثابته او ښکاره کړی فی‌الحقیقت دغه خلق له لاری څخه داسی بی لاری شوی او ډیر لری غورځیدلی دی چه د هغوی د بیرته راتگ او هدایت هیڅ هیله (امید) او توقع نشی کیدی ، او کله چه د الله تعالیٰ په سخت عذاب او عقوبت کښی اخته شی ، نو هلته به د دوی سترگی خلاصیږی .

وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهٖ لِیُبَیِّنَ لَهُمْ فَیُضِلُّ اللّٰهُ

مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ۗ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝

او نه دی لیږلی مونږ هیڅ رسول مګر خو په ژبه د قوم د ده دپاره د دی چه بیان کړی دوی ته (امر او نهی د الله) ، نو ګمراه کوی الله هر هغه چه اراده وفرمائی (د ګمراهی ئی) او هدایت کوی هر هغه ته چه اراده وفرمائی (د هدایت ئی) او هم دی ښه قوی غالب دی (په انفاذ د احکامو) ښه حکمت والا (چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی) .

**تفسیر:** یعنی همغسی چه مونږ تاسی ته د خلقو د هدایت دپاره دغه عظیم‌الشان کتاب عطاء فرمایلی دی پخوا له دی نه هم په هره زمانه کښی مونږ د هدایت وسائل خلقو ته ورلیږلی او رسولی دی ـ کله چه له طبیعی ترتیب سره موافق د هر نبی ړومبنی مخاطب د هغه قوم خلق وی چه په دوی کښی هغه نبی مبعوثیږی ، نو ځکه د هغه قوم په ژبه وحی لیږله کیږی څو د الله تعالیٰ د احکامو په پوهولو کښی پوره سهولت او آسانی وی . د نبی کریم علیه السلام په امت دعوت کښی اګر که د جهان ګرد (ټول) انسانان او پیریان شامل دی خو بیا هم په هغه قوم کښی چه دوی مبعوث شوی دی ، د هغوی ژبه عربی وه او د طبیعی ترتیب په موافق د هدایت د شیوع هم دغه یو صورت مقدر ؤ چه د دوی ړومبنی مخاطبین، او مقدم زده کوونکی په داسی سهولت او ښه والی سره په قرانی تعلیماتو او حقائقو باندی وپوهیږی چه ښه ئی په یاد او محفوظ کړی، څو د دوی په ذریعه د عالم تمام اقوام او راتلونکی نسلونه درجه په درجه په قرآنی رنګ سره رنګ کړی شی ـ لکه چه هم داسی هم وشو ـ عربو د خپل نبی په صحبت پخپل قومی ژبی کښی چه له هغه سره دوی بیحده مینه او محبت او صمیمیت درلوده (لرلو) پر قرآنی علومو پوره علم او پوه حاصله کړه بیا دوی په مشرق او مغرب کښی خپاره (خواره) شول او په روم او فارس کښی د کلمة الله د اعلاء دپاره خپاره (خواره) شول ـ په دغه وقت کښی د الله تعالیٰ قدرت په عجمی اقوامو کښی داسی زبردست جوش او د الله تعالیٰ د کلام د معرفت داعیه او په عربی ژبه کښی د پوه او مهارت حاصلولو داسی شوق پیدا فرمایلی ؤ چه له لږ مدت څخه وروسته دوی د قرآنی علومو په شرح او تبیین کښی له خپلو معاصرو عربو څخه ډیر پرمخ لاړل ـ بلکه عموماً د دینیه ؤ او ادبیه ؤ علومو مدار تر ثریا پوری الوتونکی عجمیانو ته پاتی شول او په دی دول (طریقه) سره د الله تعالیٰ حجت پر بندګانو په اتمام ورسید ـ او وقتاً فوقتاً له قرآنی آیاتونو څخه د مستفید کیدلو اسباب په سره برابر کیدل فالحمد لله علیٰ ذلک. په هر حال د خاتم الانبیاء علیه السلام د عربو په خاص قوم کښی د مبعوث کیدلو که څه وجوه موجود دی او یقیناً هم شته نو د هم دغو وجوهو په نتیجه کښی د دی سوال جواب هم راځی چه د قرآن کریم نزول په عربی ژبه سره ولی شوی دی ؟ د لوی قرآن له نزول څخه په عربی ژبه کښی د عربو رعایت ولی وفرمایه شو ؟

( ﴿ فَيُضِلُّ اللّٰهُ مَن يَشَآءُ ﴾ الآية - نو ګمراه کوی الله هر هغه چه اراده وفرمائی د ګمراهی ئی او هدایت کوی هر هغه ته چه اراده وفرمائی د هدایت ئی او هم دغه الله ښه قوی غالب دی په انفاذ د احکامو ښه حکمت والا چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی) یعنی مونږ د تبیین او هدایت ګرد (تول) سامان مکمل کړی دی بیا نو هر چا چه له دغو سامانونو څخه د منتفع کیدلو اراده وکړه نو مونږ د هغه لاس نیوی وکړ او توفیق مو ور په برخه کړ - او په سمه لاره مو ور برابر کړ او هر هغه چه تری مخ واړاوه ، هغه مو په ګمراهی کښی پریښود الله تعالیٰ زبردست او غالب دی ، که اراده وفرمائی نو ګرد (تول) خلق به په زور او جبر سره د هدایت پر لاره برابروی - لیکن د ده د حکمت اقتضاء داسی شوی ده چه انسان ته د کسب او اختیار آزادی او خپلواکی تر یو ځای پوری ورکړی - او د رحمت او غضب د دواړو مظاهر په دنیا کښی باقی پریږدی .

---

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِآيَاتِنَا أَنْ أَخْرِجْ قَوْمَكَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ ۙ وَذَكِّرْهُم بِأَيَّامِ اللَّهِ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ۝٥

---

او خامخا په تحقیق لیږلی ؤ مونږ موسیٰ په ښکاره معجزو زمونږ چه راوباسه قوم خپل له تیارو (د جهالت او ضلالت) رڼا (د علم او یقین) ته او ورياد کړه (پند ورکړه دوی ته) په (هغو سختو) ورځو (حوادثو او غورو نعمتونو) د الله ، بیشکه په دغو (یادولو د سختیو او نعمتونو) کښی خامخا دلائل د قدرت دی دپاره د هر ډیر صبر کوونکی (په زحمتونو) ډیر شکر کوونکی (په نعمتونو).

---

**تفسیر:** یعنی د هغو معجزاتو له ورکولو سره مونږ موسیٰ علیه السلام لیږلی ؤ چه د (تسعه ؤ آیتونو) په نامه سره مشهوری دی. یا به د (توریت) آیات مراد وی (او ورياد کړه او پند ورکړه دوی ته په هغو سختو ورځو د الله) یعنی د هغو ورځو واقعات ئی وربه یاد کړه کله چه پر دوی باندی د شدائدو او مصائبو غرونه ولویدل بیا نو الله تعالیٰ دوی ته له هغه څخه نجات ورکړ - او خپله مهربانی ئی پری وفرمایله - ځکه چه د دواړو قسمو حالاتو له اوریدلو څخه صابرو او شاکرو بندګانو ته عبرت حاصلیږی او د مصیبت په وقت کښی ویریدل - او د راحت په وقت کښی مغروریدل نه دی په کار - هغه خلق چه پخوا له دی نه په بری او کامیابی رسیدلی دی یواځی په دی ؤ چه هغوی پر سختیو صابران او د الله تعالیٰ پر نعمتونو باندی شاکران ؤ (کمامرفی الجزء - (۹) والاية (۱۳۷) والرکوع (۱٦) من سورة الاعراف)

﴿ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ الْحُسْنَىٰ عَلَىٰ بَنِي إِسْرَائِيلَ بِمَا صَبَرُوا ۖ وَدَمَّرْنَا مَا كَانَ يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهُ وَمَا كَانُوا يَعْرِشُونَ ﴾ .

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ
أَنجَاكُم مِّنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوءَ الْعَذَابِ وَ
يُذَبِّحُونَ أَبْنَاءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَاءَكُمْ ۚ وَفِي ذَٰلِكُم بَلَاءٌ
مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴿٦﴾

او (ياد کړه) هغه وقت چه وويل موسیٰ قوم خپل ته ياد کړئ نعمت د الله (چه احسان ئی کړی دی) پر تاسی کله چه خلاص ئی کړل نيکونه د تاسی له تابعانو (عملي) د فرعون څخه چه رساوه به ئی تاسی ته بد سخت عذاب او ذبح کول (وژل) به ئی واړه ځامن ستاسی او ژوندی به ئی پريښودی دپاره د خدمت لونی ښځی ستاسی؛ او په دی (حلالولو يا خلاصولو يا تولو کښی نصرت مصيبت يا نعمت يا) ابتلا وه له جانبه د رب ستاسی ډيره لويه.

**تفسير:** مثلاً له تاسی څخه ئی مريان جوړ کری ؤ ـ او پر تاسی ئی سخت سخت بيګارونه اجرا کول ـ او ذبح کول وژل به ئی واړه ځامن ستاسی او ژوندی به ئی پريښودی دپاره د خدمت لونی ښځی ستاسی او په دی حلالولو يا خلاصولو يا تولو کښی مدد مصيبت نعمت يا ابتلاء وه له جانبه د رب ستاسی ډيره لويه چه تاسی ئی د مريتوب له ذلته وويستلئ او د خپلواکی آزادی له دولت څخه ئی مستفيد کړئ.

د «بلا» اصلی معنی ازموينه ده په زحمت او راحت په دواړو حالتونو کښی د بندګانو ازموينه په صبر او شکر کښی ده ﴿وَنَبْلُوكُم بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً﴾ (۱۷) جزء د الأنبيا (۳۵) اية ۳ رکوع ﴿وَبَلَوْنَاهُم بِالْحَسَنَاتِ وَالسَّيِّئَاتِ﴾ (۹ جزء د الاعراف (۱٦٨) اية ۲۱ رکوع) کله چه د فرعونيانو څخه نجات لوی نعمت ؤ نو دلته ئی ازموينه په انعام سره وشوه لکه چه محقق شيخ الهند رحمة الله عليه د معنی د حاصل په دول (طريقه) «بلاء» ئی په «مدد» سره تعبير کری دی هم داسی بل آيت هم د البقرة او الاعراف په سورت کښی تير شوی دی ـ ښائی هلته دی د هغو فوائد ولوستل شی!

وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِن شَكَرْتُمْ
لَأَزِيدَنَّكُمْ ۖ وَلَئِن كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ ﴿٧﴾

او ياد كړه هغه وقت چه خبر دركړ تاسي ته رب ستاسي په دي چه قسم دی كه چيرې شكر وويست تاسي (په تيرو نعمتونو احسانونو زما) نو خامخا زيات به كړم تاسي ته نعمت او قسم دی كه بې‌قدري ناشكري وكړه تاسي (د نعمتونو احسانونو زما) نو بيشكه عذاب زما خامخا ډير سخت دی .

**تفسير:** دا د موسیٰ عليه السلام مقوله ده ـ يعني ای بني اسرائيلو ! هغه وقت هم په ياد ولرئ چه ستاسي رب اعلان وفرمايه «كه زما احسان مو ومانه ! او په ژبه او په زړه مو زما د نعمتونو شكر اداء كړ ! نو خامخا روحاني او جسماني ـ اخروي او دنيوي هر قسم نور نعمتونه به هم د تاسي په برخه كړم او قسم دی كه بيقدري او ناشكري وكړئ تاسي د نعمت زما نو بيشكه عذاب زما خامخا ډير سخت دی) يعني ای بني اسرائيلو د كفران په صورت دغه موجوده نعمت هم در څخه سلب كاوه شي ـ او د ناشكري مزيده سزا به بيله دركړه شي . په حديث كښې راغلي دي چه د پاک رسول صلى الله عليه وسلم په خدمت كښې يو سائل راغي ، نو دوی هغه ته يوه دانه خرما (كجوره) وركړه مګر سائل هغه كجوره وانخيسته ـ يا ئې لرې وغورځوله بيا بل سوالګر راغي هغه ته هم پاک رسول الله يوه دانه كجوره وركړه ـ ده وويل «سبحان الله تمرة من رسول الله صلى الله عليه وسلم » يعني دغه كجوره يوه تبركي ده د رسول صلى الله عليه وسلم له خوا رسول الله مبارک جاريې ته امر وركړ چه هغه څلويښت روپۍ چه د ام سلمه (د رسول الله له بي‌بي) سره ايښې شوی دی هغه دی هم دغه شاكر سائل ته وركړی شي .

وَقَالَ مُوسَىٰٓ إِن تَكۡفُرُوٓاْ أَنتُمۡ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا فَإِنَّ ٱللَّهَ لَغَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴿٨﴾

او وويل موسیٰ (ای قومه زما) كه كافران (منكران) شئ (بيقدري وكړئ) تاسي او هر هغه څوک چه په ځمكه كښې دی (له انسانانو او پيريانو) تول نو بيشكه الله خامخا غني دی (بي پروا له هر څيز او له هر چا) تل ښه ستايلي شوی (ثنا ويلي شوی).

**تفسير:** يعني ای بني اسرائيلو ! د كفران ضرر به هم تاسي ته رسيږي ، او د پاک الله هيڅ شی نه كميږي ، او هغه ستاسي شكر كولو ته له سره حاجت نه لري كه څوک ئې شكر اداء كړي كه ئې اداء نه كړي په هر حال د ده حميدي او محمودي ته هيڅ تنقيص نه واقع كيږي . «صحيح مسلم شريف» يو حديث قدسي نقل كړی دی چه حاصل ئې داسي دی «ای زما بندګانو ! كه تاسي ګرد (تول) پخواني او وروستني جن او انس تول د يوه ښه پرهيزګار سړي په نمونه شئ نو له هغه څخه هيڅ زما مملكت نه زياتيږي . او كه تاسي پخواني او وروستني جن او انس سره تول

یو ځای شئ او په فرض محال د یوه بدترین انسان په شان شئ (العیاذ بالله) نو له هغه ځنی د
یوی ذری په اندازی زما په مملکت کښی هیڅ نقصان نه واقع کیږی .

اَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَؤُا الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ
قَوْمِ نُوْحٍ وَّعَادٍ وَّثَمُوْدَ ۬ۛ وَالَّذِيْنَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ ۛؕ لَا
يَعْلَمُهُمْ اِلَّا اللّٰهُ ؕ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَرَدُّوْٓا
اَيْدِيَهُمْ فِيْٓ اَفْوَاهِهِمْ وَقَالُوْٓا اِنَّا كَفَرْنَا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ
وَاِنَّا لَفِيْ شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُوْنَنَآ اِلَيْهِ مُرِيْبٍ ۝٩ قَالَتْ رُسُلُهُمْ
اَفِي اللّٰهِ شَكٌّ فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ يَدْعُوْكُمْ
لِيَغْفِرَ لَكُمْ مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ وَيُؤَخِّرَكُمْ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ
قَالُوْٓا اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ؕ تُرِيْدُوْنَ اَنْ تَصُدُّوْنَا
عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَا فَاْتُوْنَا بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ۝١٠

آیا نه دی راغلی تاسی ته خبر د هغو کسانو چه (تیر شوی دی) پخوا له تاسی نه چه قوم د نوح او عاد (چه قوم د هود دی) او ثمود (چه قوم د صالح دی) او هغه کسان چه ؤ پس له دوی څخه چه نه دی خبر پر دوی (هیڅوک) مګر یو الله ، چه راوړی وو دوی ته رسلانو د دوی ښکاره دلائل (د قدرت) نو رد کړل (وګرځول دغو کفارو) لاسونه خپل په خولو خپلو (یا په خولو د انبیاؤ کښی چه ونه غږیږی) او وویل دوی چه بیشکه مونږ کافران شوی یو په هغه چه لیږلی شوی یئ تاسی په هغه سره او بیشکه مونږ خامخا په شبهه شک کښی یو له هغه (توحید) نه چه بولئ تاسی مونږ هغه ته (په داسی شک) چه واقع کوونکی دی (زمونږ په اضطراب او خلجان کښی). وویل رسولانو د دوی آیا په (وجود د) الله کښی شبهه شک دی (هسی الله چه) پیدا کوونکی د اسمانونو او د ځمکی (او مافیهما) دی (بلکه شک نشته)، بولی تاسی (لره الله په ژبه زمونږ ایمان ته) دپاره د دی چه وبښی تاسی ته بعضی له ګناهونو ستاسی (چه حقوق الله دی) او چه مهلت درکړی تاسی ته (له

عذابه) تر وقته معينه پورى (چه وقت د نزعى دى) ، وويل (كفارو) چه نه يئ تاسى مگر آدميان پشان زمونږ (نو ولى به تاسى انبياء گنو) اراده لرئ تاسى د دى چه منع كړئ واړوئ مونږ (په دعوى د نبوت سره) له هغو شيانو څخه چه ؤ چه عبادت به كاوه (د هغو) پلرونو زمونږ نو راوړئ مونږ ته كوم برهان ښكاره (حجت واضح په صحت د دى دعوى او استحقاق د فضل خپل).

---

**تفسير:** دا د موسىٰ عليه السلام د كلام تتمه ده ـ يا هغه ئى پريښى حق تعالىٰ دغه محمدى امت ته خطاب فرمائى ـ په هر حال په دى كښى ئى ښوولى دى چه هغه بى شماره اقوام چه پخوا له دى نه تير شوى دى د هغوى تفصيلى اطلاع او احوال بى له الله تعالىٰ څخه هيچا ته معلوم نه دى ، البته هغه څو قومونه چه د عربو په نزد ډير مشهور ؤ ، د هغو نومونه ئى واخيستل ، او بقيه ئى په «والذين من بعدهم» كښى درج كړى تنبيه فرمائى چه د دغو اقوامو څه حال او حشر شوى دى ، آيا د هغو احوال تاسى ته نه دى رسيدلى ؟ د تعجب ځاى دى چه پخوا له دى نه دومره اقوام سپيره او تباه شوى دى ، او د دوى له حال څخه تراوسه پورى تاسى ته عبرت نه دى حاصل شوى .

**تنبيه:** ابن عباس رضى الله عنه ﴿ لَا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا اللَّهُ ﴾ ولوست او وى ويل «**كذب النسابون**» يعنى د انسابو د پوره معرفت دعوى كوونكى دروغجنان دى ـ عروة بن الزبير فرمائى چه مونږ هيڅوک داسى نه دى موندلى چه له معد بن عدنان څخه پورته په حقيقى طور د نسب حال او احوال راوښيى والله اعلم .

( ﴿ وَجَاءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ ﴾ الآية ـ چه راوړى وو دوى ته رسولانو د دوى ښكاره دلائل د قدرت نو رد كړل ، وگرځول دغو كفارو لاسونه خپل په خولو خپلو يا په خولو د انبياؤ كښى چه چپ شئ نور څه مه وايئ) يعنى كفار له ډيره غيظه او غضبه خپلى گوتى چيچى . په بل ځاى كښى ئى فرمايلى دى ﴿ عَضُّوا عَلَيْكُمُ الْأَنَامِلَ مِنَ الْغَيْظِ ﴾ يا د انبياؤ د خبرو له اوريدلو څخه له نهايت تعجبه خپل لاسونه پر خوله ږدى ، خپل لاسونه د خپلو خولو په لورى وړى او اشارى كوى چه بس دى اوس خو چپ اوسئ لـ يا زمونږ له دى ژبى څخه ماسوا له دى جوابه د بل كوم شى د اوريدلو توقع مه كوئ چه ورروسته له دى نه بيان راغلى يا د نبى الله د خبرو د اوريدلو په وقت كښى خندل ، او كله د خندا د مخى نيولو لامله (له وجى) پر خپلو خولو به ئى خپل لاسونه كيښودل . او دا هم ممكن دى چه د «ايديهم» ضمير د كفارو په لورى او د «افواههم» د رسل په طرف راجع وى يعنى دغو ملعونانو خپل لاسونه د انبياؤ پر خولو كيښودل ، چه هغوى بيخى هيڅ شى ونشى ويلى . يا به دواړه ضميرونه د «رسل» په طرف وى يعنى د سختى بى ادبى او گستاخى له امله (له وجى) د انبياؤ لاسونه اخلى او په زوره ئى د دوى پر خولو باندى ږدى د ځينو په نزد دلته له «ايدى» څخه مراد نعمتونه دى . يعنى هغه عظيم الشان نعمتونه چه انبياؤ عليهم السلام دوى ته وروړاندى كړى ؤ مثلاً د الله تعالىٰ شرائع او نور ، دوى د هغو بيقدرى او

ناشكرى وكړه او بيرته ئى ور وغورځول ـ ، او هيڅ يو ئى ونه مانه ـ لكه چه زمونږ په محاورو كښې هم ويلى كيږى چه د هغه سړى هغه شى ئى د هغه په مخ كښې ور وواهه يا مى د هغه خبره بيرته په خوله ور ووهله يا مى لنډه كړه ـ په هر حال هره معنى چه واخيسته شى ، د ګردو (ټولو) حاصل هم دغه دى چه دوى د الله تعالىٰ د نعمت ناقدرى وكړه او د انبياؤ عليهم السلام دعوت ئى قبول نه كړ ـ بلكه له هغو سره ئى په ډيرى بيقدرى او سپين سترګى او ګستاخى سره معامله وكړه

(﴿ أَفِي اللَّهِ شَكٌّ ﴾ آيا په وجود د الله كښې شبهه شك دى هسى الله چه بى له نمونى پيدا كوونكى د اسمانونو او د ځمكو او مافيهما دى ؟ بلكه د ده په واجب الوجودى كښې له سره شك او شبهه نشته!) يعنى د الله تعالىٰ وجود او وحدانيت خو داسى يو شى نه دى چه په هغه كښې د شك او شبهى لږ څه ځاى او ګنجائش وى پخپله انسانى فطرت د رب العزت پر وجود شاهد دى د علوياتو او سفلياتو عجيب او غريب نظام شهادت وركوى چه د دغه مشين پرزى د وجود په قالب او سانچه كښې اچوونكى او بيا ئى جوړوونكى او په نهايت محكمى او منظمى طريقى سره چلوونكى قوت او قدرت ښائى چه ډير قوى او نهايت زبردست وى چه په كامل حكمت او اختيار سره د عالم مشين پخپل واك (اختيار) او قابو كښې ساتى ـ نو ځكه خورا ډيرو لويو لويو مشركانو ته په يو نه په بل رنګ د دغى خبرى له اعترافه چاره نشته هغه لوى الله چه اسمانونه او ځمكى او نورى كړى ئى پيدا كړى دى هغه الله تعالىٰ له ګردو (ټولو) وړوكو بتانو او معبودانو څخه په ډيره لوړه (اوچته) مرتبه كښې دى . د انبياؤ عليهم السلام تعليم هم دغه دى كله چه د انسانى فطرت د يوه عليم او حكيم او قادر او توانا منبع الكمالاتو الله تعالىٰ د مجمع الصفاتو ذات پته او سراغ او نښه لګولى او پيدا كړى ده نو بيا ولى د اوهامو او ظنونو په ختو او دلدلو كښې خپل ځان غورځوى او خښوى ؟ او دغه ساده فطرت او ښكاره دليل څخه لوبى قيصى او معمى جوړوئ ؟ انسانى ضمير ، د بشريت وجدان شهادت اداء كوى چه د يوه قادر مطلق او عالم الكل الله تعالىٰ له موجوديت سره د كومى تيږى (ګټى) يا ونى يا انسانى تصوير يا فلكى ستورى يا د بل كوم مخلوق په الوهيت كښې شريكول ، د فطرت د غږ بندولو يا خرابولو سره مرادف دى ، نو آيا د الله پاك په ذات او صفاتو كښې معاذ الله د څه نقصان احساس شوى دى چه د هغه تلافى د ده مخلوق د خدايانو په جمعيت سره كوى.

( ﴿ يَدْعُوكُمْ لِيَغْفِرَ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ ﴾ الله بولى تاسى په ژبه ځمونږ ايمان ته دپاره د دى چه مغفرت وكړى تاسى ته بعضى له ګناهونو ستاسى چه حقوق الله دى) يعنى مونږ نه رابولو فى‌الحقيقت زمونږ په ذريعه پاک الله تاسى د خپل په طرف رابولى چه د توحيد او ايمان پر لاره لاړ شئ! او د ده د قرب تر مقام پورى ځان ورسوئ! ـ كه تاسى له خپلو دغو حركاتو څخه لاس واخلئ! ـ او د ايمان او ايقان طريقه ځان ته غوره كړئ! ـ نو له ايمان راوړلو څخه پخوا ستاسى ګرد (ټول) ګناهونه (په استثناء د حقوق العباد او زواجرو) درمعافوى بيا وروسته له ايمان راوړلو څخه هر رنګه عمل مو چه وكړ ـ د هغه په موافق له تاسى سره معامله كيږى .

( ﴿ وَيُؤَخِّرَكُمْ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى ﴾ او چه الله مهلت درکری تاسی ته له عذابه تر وقته معينه پوری چه وقت د نزعی دی) يعنی په کفر او شرارت باندی د قائم پاتی کيدلو په صورت کښی له ژر تباه کيدلو څخه به محفوظ پاتی کيږئ! او هومره مدت چه په دنيا کښی پاتی کيږئ، په سکون او اطمينان سره به ژوندون وکړئ

( ﴿ قَالُوا إِنْ أَنتُمْ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ﴾ ووېل کفارو چه نه يئ تاسی مگر آدميان په شان زموږ نو ولی موږ تاسی انبياء وګڼو اراده لرئ تاسی چه منع کړئ واړوئ موږ په دعوی د نبوت سره له هغو شيانو څخه چه ؤ پخوا له دی نه چه عبادت به کاوه د هغو پلرونو زموږ الخ) يعنی ښه ! د الله تعالیٰ بحث پريږدئ ـ او د خپل ځان په نسبت ووايئ! آيا تاسی د اسمان پرښته يئ! يا علاوه پر نوع البشر له نورو کومو نوعو څخه يئ! کله چه بل هيڅ شی نه يئ ـ او فقط زموږ په شان بنيادم يئ نو بيا په څه دول (طريقه) موږ ستاسی پر دغو خبرو يقين وکړو ـ ستاسی غوښتنه به داسی وی چه موږ خپل قديمی مذهب څخه مخ واړوو ـ او ستاسی تابعان شو ـ نو زړونه مو جمع کړئ ـ چه دغه به له سره نه کيږی . که تاسی د خپل امتياز ثابتول غواړئ او په دغه مقصد کښی خپله کاميابی او بری غواړئ نو داسی کوم يو ښکاره سند او د الهٰی فرمان راوښيئ! چه د هغه په مقابل کښی موږ هرومرو (خامخا ) خپلی غاړی کيږدو او دغه کار هلته امکان لری چه تاسی زموږ له غوښتنی سره سم معجزی او ښکاره نښی راوښيئ .

---

قَالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ إِن نَّحْنُ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَمُنُّ
عَلَىٰ مَن يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ ۖ وَمَا كَانَ لَنَا أَن نَّأْتِيَكُم بِسُلْطَانٍ
إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ ۚ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ﴿١١﴾

---

ووېل دوی ته رسولانو د دوی (چه هو!) نه يو موږ مگر آدميان يو په شان ستاسی وليکن الله احسان کوی (په ايمان او نبوت سره ) پر هر چا چه اراده وفرمائی (د احسان د هغوی) له بندګانو خپلو (لکه چه پر موږ ئی فرمايلی دی)، . او نه ښائی موږ ته (او نه توانيږو) دا چه راوړو موږ تاسی ته کوم برهان (سند معجزه ) مگر په اذن (حکم) د الله سره ، او خاص پر الله نو توکل دی وکړی مومنان.

**تفسير:** يعني د تاسي دغه خبرې ګردې (تولی) داسي دي چه نه مونږ پرښتې يو او نه بل کوم مخلوق بلکه په نفس د بشريت کښې مونږ ستاسې پشان يو ليکن د بشر د نوعې په افرادو کښې د احوالو او مدارجو په اعتبار آيا د ځمکې او د اسمان توپير (فرق) او اعتبار نشته ؟ ـ آخر دا خو تاسې هم ګورئ چه الله تعالىٰ د جسماني ـ دماغي ـ اخلاقي او معاشي حالاتو په اعتبار ځينو انسانانو ته پر ځينو نورو څومره فضيلت او عظمت وربښلې دی ـ بيا که داسي وويلې شي چه پاک الله خپل ځيني بندګان د دوی د فطري قابليت او اعلىٰ ملکاتو په سبب د روحاني کمال او باطني قرب هغه لوړ مقام ته رسولي دي چه هغه ته د «نبوت» يا «رسالت» منصب وائي ، نو په دغه کښې څه اشکال او استبعاد دی په هر حال د نبوت له دعوی څخه دغه نه لازميږي چه د خپل ځان په نسبت د ماسواء البشر د بل کوم نوعيت دعوی کوونکي يو . هو ! دومره قدر ثابتيږي چه الله تعالىٰ له خپلو بندګانو څخه ځينو ته پر ځينو داسي خصوصي احسان فرمايي چه هغه په نورو کښې نه وي (لکه نبوت ـ رسالت ـ ولايت ـ علميت ـ درايت ـ کفايت ـ اهليت)

( ﴿ وَمَا كَانَ لَنَا أَنْ نَأْتِيَكُمْ بِسُلْطَانٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ ﴾ او نه ښائي مونږ ته او نه توانيږو دا چه راوړو مونږ کوم برهان فرمان مګر په اذن او حکم د الله تعالىٰ سره ـ او خاص پر الله ښائي چه توکل دي وکړي مؤمنان) يعني اوس پاتي شو د برهان او سند معجزه او د فرمان راوړلو خبره نو د الله تعالىٰ په حکم مونږ لا پخوا د خپل نبوت سند او روښانه نښې او دلائل درښولي دي **کما قال** ﴿ جَاءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ ﴾ د هر هغه سړي زړه چه د هغه منل وغواړي ، نو د ده د اطمينان دپاره هغه بس او کافي دي ـ پاتي شو ستاسي د غوښتنو پوره کول نو دغه شی د الله تعالىٰ په اختيار کښې دی زمونږ په قبضه او واک (اختيار) کښې نشته او نه زمونږ تصديق په دغه پورې، عقلاً مربوط دی ـ پاک الله سم له خپل حکمت سره د هر هغه سند او معجزې اراده چه وفرمائي ، تاسو ته به ئې درښيي د غوښتلو شويو معجزو له ليدلو څخه ايمان په لاس نه درځي ـ او خاص د الله تعالىٰ په ورکړه سره په برخه کيږي لهٰذا ښائي چه يو ايماندار پر دغه اعتماد وکړي ـ او که بيا هم تاسي دغه خبره نه منئ ـ او زمونږ په عداوت او ايذاء رسولو ځان تياروئ ، نو زمونږ توکل او اعتماد د همغه الله تعالىٰ پر مهرباني او امداد دی .

---

وَمَا لَنَا أَلَّا نَتَوَكَّلَ عَلَى اللَّهِ وَقَدْ هَدَانَا سُبُلَنَا ۚ وَلَنَصْبِرَنَّ عَلَىٰ مَا آذَيْتُمُونَا ۚ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُونَ ﴿١٢﴾

---

او څه عذر دی مونږ ته په دې کښې چه توکل به نه کوو پر الله حال دا چه ښوولې ئې دي مونږ ته لارې (د دين) زمونږ ، او قسم دی چه صبر به وکړو خامخا پر ضرر رسولو د تاسي مونږ لره ، او خاص پر الله نو تل دي توکل وکړي متوکلان .

**تفسير:** يعنی حق تعالیٰ مونږ ته د توحيد جام راڅښولی دی ، او د حقيقی بری او کاميابی لاره ئی راښوولی ده ، نو بيا څرنګه ممکن دی چه مونږ به پری توکل او اعتماد نه کوو .(او قسم دی چه صبر به وکړو خامخا پر ضرر رسولو د تاسی مونږ لره او خاص پر الله نو تل دی توکل وکړی متوکلان) يعنی تاسی هومره ضرر او ايذاء چه راورسوئ ، د پاک الله په فضل سره زمونږ په توکل کښی هيڅ فرق نه لويږی د متوکلينو دغه کار نه دی چه د سختيو په ليدلو سره د توکل او استقامت له لاری څخه واوړی يا بی هيلی شی .

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِرُسُلِهِمْ لَنُخْرِجَنَّكُمْ مِّنْ اَرْضِنَآ اَوْ لَتَعُوْدُنَّ فِيْ مِلَّتِنَا ؕ فَاَوْحٰۤى اِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ لَنُهْلِكَنَّ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۳﴾ وَلَنُسْكِنَنَّكُمُ الْاَرْضَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ ؕ ذٰلِكَ لِمَنْ خَافَ مَقَامِيْ وَخَافَ وَعِيْدِ ﴿۱۴﴾

او وويل هغو کسانو چه کافران شوی ؤ رسولانو خپلو ته چه خامخا وبه باسو مونږ تاسی هرومرو (خامخا) له ځمکی خپلی يا به خامخا وګرځئ تاسی هرومرو (خامخا) په دين زمونږ کښی پس وحی وکړه دوی ته رب د دوی چه هرومرو (خامخا) هلاک به کړو مونږ ظالمان ، او خامخا به واوسوو مونږ تاسی په ځمکه د دوی کښی وروسته (د هلاک) د دوی ، دغه (اهلاک او اسکان حق دی) دپاره د هغه چا چه ويريږی له دريدلو په مخ زما کښی او ويريږی له وعدی (د عذاب زما)

**تفسير:** يعنی اوس خپل د تو کل او استقامت خبری پريږدئ! او خپله زياته لوئی او مشرتيا مه ښکاروئ! بس او بس له دوو خبرو څخه يوه خبره ضرور ځانونو ته غوره کړئ! يا تاسی له بعثته څخه پخوا په شان پته خوله او قرار له مونږ سره ګډ او مخلوط اوسئ او هغه کسان مو چه پخوا له دی نه له مونږ ځنی بی لاری کړی دی هغوی دی بيرته زمونږ په هم دغه پخوانی دين کښی راشی! که نه تاسی ټول زمونږ له ملکه د باندی لاړ شئ! او مونږ مو له دی وطنه نورو ملکونو ته شړو. پس وحيه وکړه دوی ته رب د دوی داسی چه هرومرو (خامخا) هلاک به کړو مونږ ظالمان. يعنی تاسی به څنګه دوی له دی ملکه وباسئ ـ مونږ به هم دغه ظالمان د تل دپاره داسی فنا کړو چه بيا له سره بيرته نه شی راتلی او د دوی په ځای کښی به تاسی او ستاسی نور مخلص وفاداران

ودانوو ـ وګورئ چه د مکی معظمی کفارو د همیشه دپاره نبی کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم او نور مسلمانان له هغه ځایه وویستل ـ چه هم دغه اخراج بالاخر د دوی د اخراج سبب او وسیله وګرځیده او هلته د اسلام او د مسلمانانو دائمی تسلط قائم او د کفر او کفارو هیڅ یو اثر او نښه نه شوه پاتی. او هم دغه ئی داسی وفرمایله چه او خامخا به اوسوو مونږ تاسی په ځمکه د دوی کښی وروسته له اهلاله د دوی

( ﴿ ذٰلِكَ لِمَنۡ خَافَ مَقَامِيۡ وَخَافَ وَعِيۡدِ ﴾ دغه اهلاک د اشرارو او اسکان د ابرارو حق دی دپاره د هغه چا چه ویریږی له دریدلو په مخ ځما کښی او ویریږی له وعدی د عذاب ځما نه یا ) دغه پاس ذکر شوی بری او کامیابی هغو خلقو لره ده چه له پاک الله څخه ویریږی ـ او داسی ګڼی چه الله جل‌جلاله زمونږ ګرد (تول) حرکات تل وینی ـ او یوه ورځ به هرومرو (خامخا) مونږ د حساب او کتاب ورکولو دپاره د ده په مخ کښی دریږو، چه هلته به د ده د بی‌څاری عذاب څخه د نجات او خلاصیدلو هیڅ منجی (نجات ورکونکی) او ژغورونکی (خلاصونکی) نه وی.

---

وَاسۡتَفۡتَحُوۡا وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيۡدٍ ﴿۱۵﴾ مِّنۡ وَّرَآئِهٖ جَهَنَّمُ وَيُسۡقٰى مِنۡ مَّآءٍ صَدِيۡدٍ ﴿۱۶﴾ يَّتَجَرَّعُهٗ وَلَا يَكَادُ يُسِيۡغُهٗ وَيَاۡتِيۡهِ الۡمَوۡتُ مِنۡ كُلِّ مَكَانٍ وَّمَا هُوَ بِمَيِّتٍ ؕ وَمِنۡ وَّرَآئِهٖ عَذَابٌ غَلِيۡظٌ ﴿۱۷﴾

---

او فیصله (فتح او نصرت) وغوښته (انبیاؤ نو منصور او مامون شول سره له مومنانو) او نامراده زیانکاره نا امیده شو هر یو متکبر سرکښ (ضدی عناد کوونکی له حق سره) چه وړاندی د ده دوزخ دی پس له مرګه او په کښی سوځی) او ورڅښولی به شی (پری په زوره) له اوبو (چه زوی وینی سره ګډی وی او د دوزخیانو له ګیډو نه بهیږی) چه غړپ غړپ به ئی (په تکلیف سره) څښی او نه به وی نژدی چه تیر کړی هغه (زوی په آسانی سره له ډیر تریخوالی او بدبوئی) او رابه شی ده ته (سختی د) مرګ له هر طرف (او له هر ځایه) حال دا چه نه به وی دی مړ کیدونکی (چه په آرام شی) او له شا او په مخ د ده کښی به عذاب ډیر سخت وی.

---

**تفسیر:** یعنی انبیاؤ له الله تعالیٰ څخه مدد وغوښت او د فیصلی طالبان شول ـ لکه چه نوح علیه السلام ویلی ؤ ﴿ فَافۡتَحۡ بَيۡنِيۡ وَبَيۡنَهُمۡ فَتۡحًا وَّنَجِّنِيۡ ﴾ او لوط علیه السلام وویل ﴿ رَبِّ نَجِّنِيۡ وَاَهۡلِيۡ مِمَّا يَعۡمَلُوۡنَ ﴾ شعیب علیه السلام عرض کری ؤ ﴿ رَبَّنَا افۡتَحۡ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَ قَوۡمِنَا بِالۡحَقِّ ﴾ او موسیٰ علیه السلام دعاء فرمایلی وه ﴿ رَبَّنَاۤ اِنَّكَ اٰتَيۡتَ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَاَهٗ ﴾ الآیة ـ او کفارو کله چه

وليدل چه له دومره طويل مدت راهيسى مونږ له عذابه ويرول كيږو ـ ليكن د هغه هيڅ يوه نښه او آثار نه څرگنديږى (ښكاره كيږى) نو په تمسخر او استهزاء سره ئى په داسى ويناؤ سره خوله ويرانيستله ﴿ وَقَالُوا رَبَّنَا عَجِّل لَّنَا قِطَّنَا قَبْلَ يَوْمِ الْحِسَابِ ﴾ (٢٣ جزء د ص (١٦) آية ١٢ ركوع) او ﴿ وَإِذْ قَالُوا اللَّهُمَّ إِن كَانَ هَٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِندِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ السَّمَاءِ أَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴾ (٩ جزء ٣٢ آية د الانفال ٢ ركوع) دغه خو د قريشو مقولى وى. د نوح عليه السلام قوم ويلى ؤ ﴿ فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا ﴾ د شعيب عليه السلام قوم وويل ﴿ فَأَسْقِطْ عَلَيْنَا كِسَفًا ﴾ و غير ذلك الغرض د دواړو طرفو د فيصلى د ژر صادر كيدلو تقاضا وشوه

(﴿ وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ ﴾ او نامراده زيانكاره نا اميده شو هر يو متكبر سركښ ضدى عناد كوونكى له حقه سره) يعنى په مجرد د دى چه د انبياؤ له لورى د الله تعالىٰ په دربار كښى داسى عرض او استدعا وشوه چه يو ناڅاپه د الله تعالىٰ مدد راغى ـ او هر يو سركښ او ضد كوونكى نامراده شو ـ او گرد (تول) هغه خيالات چه دوى پخپلو ماغزو كښى پخول په يوى نيونى سره له منځه لاړل او ورک شول ـ نه دوى پاتى شول او نه د دوى توقعات ـ او گرد (تول) سره يو ځاى سره سپيره او فناه شول .

(بد عمل بده وينا ځيږوى سخته بلا

هلاک كړى تل هلاكو ريز مريز كړى تل چنگيز)

(﴿ مِّن وَرَائِهِ جَهَنَّمُ وَيُسْقَىٰ مِن مَّاءٍ صَدِيدٍ ﴾ چه وراندى د ده دوزخ دى او پس له مرگه پكښى سوځى او ورڅښولى به شى پرى په زوره له اوبو چه زوى او وينى سره گدى وى او د دوزخيانو له گيدى څخه بهيږى) يعنى دغه خو د دى دنيا عذاب ؤ ـ وروسته له دى د دوزخ مدهشه او موحشه منظره ور په مخه ده چه دوى پكښى غورځول كيږى او سوځى چه د تږى كيدلو په شدت كښى زوى يا د زوو په شان اوبه پر دغو كفارو وڅښول شى.

(﴿ يَتَجَرَّعُهُ وَلَا يَكَادُ يُسِيغُهُ ﴾ چه گوټ گوټ به ئى په تكليف سره څښى او نه به وى نژدى چه تيرى كړى هغه زوى په آسانى سره له ډير تريخوالى او بدبوئى) يعنى پخپلى خوښى سره ئى كله څښلى شى. په حديث كښى دى چه پرښتى ئى د اوسپنى په گرزونو سره په سر وهى او په زوره ئى پرى څښى او په خوله كښى ئى ورتويوى څه مهال (وخت) چه دوى خپلى خولى ته ورنژدى كوى نو د هغه د حرارت له شدته د دوى د دماغو او د ماغزو تر پوټكى پورى هم بيل شى او لاندى ځوړند شى ـ كله چه هغه د دوى خولى ته ورسيږى نو د دوى له ستونى (حلق) څخه تيريږى او هلته بند پاتى كيږى ـ په ډير مصيبت او ربړ (تكليف) سره ئى يو يو گوټ يو يو غرپ، له ستونى (حلق) څخه تيروى ـ كله چه هغه د دوى نس كښى ولويږى نو سم له لاسه د دوى كلمى توتى توتى غوڅى شى او د باندى ترى ولويږى ﴿ وَسُقُوا مَاءً حَمِيمًا فَقَطَّعَ أَمْعَاءَهُمْ ﴾ (٢٦ جزء د محمد (١٥) آية ٢ ركوع)

﴿ وَإِن يَسْتَغِيثُوا يُغَاثُوا بِمَاءٍ كَالْمُهْلِ يَشْوِي الْوُجُوهَ ﴾ (۱۵جزء د الکهف (۲۹) آیة ٤ رکوع) **اعاذنا الله منها وسائر المؤمنین.**

( ﴿ وَيَأْتِيهِ الْمَوْتُ ﴾ الآیة ـ او را به شی ده ته سختی د مرگ له هر طرفه او له هر ځایه حال دا چه نه به وی دی مر کیدونکی چه په آرام شی او له شا او په مخ د ده کښی به عذاب ډیر سخت وی) یعنی د دوی ځنبل به څه وی؟ ـ له هر لوری به د مرگ سره لاس او گریوان او مخامخ وی له سره تر پښو پوری په هر یوه عضو به د موت سکرات طاری وی ـ له شپږو جهاتو (اطرافو) به پر دوی سخت مهلک عذاب مسلط شی او پری نازلیږی ـ پر دغه ژوندون به مرگ ته ترجیح ورکوی ـ لیکن مرگ به هم د دوی په برخه نه کیږی، چه د دوی دغو گردو (تولو) تکالیفو ته خاتمه ورکړی ـ له یوه عذابه وروسته بل نوی عذاب به پری پرله پسی راځی

﴿ كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُم بَدَّلْنَاهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا لِيَذُوقُوا الْعَذَابَ ﴾ (٥ جزء د النساء ٥٦ آیة ٨ رکوع)

﴿ ثُمَّ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ ﴾ (٣٠ جزء د الاعلیٰ (١٣ آیة ١ رکوع)

---

مَّثَلُ الَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ أَعْمَالُهُمْ كَرَمَادٍ اشْتَدَّتْ بِهِ الرِّيحُ فِي يَوْمٍ عَاصِفٍ لَّا يَقْدِرُونَ مِمَّا كَسَبُوا عَلَىٰ شَيْءٍ ذَٰلِكَ هُوَ الضَّلَالُ الْبَعِيدُ ﴿١٨﴾

---

مثال (حال ـ صفت) د هغو کسانو چه کافران شوی دی په رب خپل باندی عملونه د دوی په شان د (ډیری د ) ایری دی چه سخت را والوځی پری باد په هغه ورځ چه سخت او ښورونکی وی باد ئی، نه به قادربږی دوی د هغو عملونو چه کړی دی دوی په هیڅ شی، دا (گمان د نیکی د دوی (هم دغه گمراهی ده لری (له حقه)

---

**تفسیر:** ځینو کفارو ته به داسی خیال پیدا کیده چه مونږ خو په دنیا کښی ډیر ښه ښه کارونه د صدقاتو او خیراتونو په سلسله کړی دی زمونږ ښه اخلاق په خلقو کښی مشهور دی ـ له ډیرو خلقو سره مو په مصیبت او تکلیف کښی مرستی (مدد) او کومکونه کړی دی ـ او په یوه نه یو صورت سره مو د الله تعالیٰ عبادت هم کړی نو آیا دغه گرد (تول) کړی او په نورو کولی او راکړه او ورکړه مو هلته په کار نه راځی؟ د هغه جواب ئی په دغه تمثیل سره ورکړ ـ یعنی هر هغه څوک چه د پاک الله صحیح معرفت نه لری او یواځی د فرضی او وهمی معبودانو عبادت کوی د هغه گرد (تول) اعمال محض یو بی روحه او بی وزنه شی ته ورته دی او هغه به په محشر کښی داسی الوزی، او له منځه ورک کیږی لکه چه د لوی باد او سیلی په وقت کښی د ایرو بخرکی الوځی نو هلته به کفار د نیک عمل څخه بیخی تش لاس وی ـ حال دا چه داسی یوه موقع به وی چه هلته د نیکو عملونو ضرورت له هر شی څخه زیات وی . الله اکبر! دغه به څرنگه د

حسرت او افسوس وقت وی، هغه اعمال چه دوی ئی د قرب او نجات وسیله گنی ، هغه د ایرو د دیری په شان په عین موقع کښی بی حقیقت ثابتیږی ، او بالمقابل نور خلق د خپلو نیکو له خوږو ثمراتو څخه خوندور کیږی

هومره چه بازار موړ وی

د بی وزلو زړه تری سوړ وی

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ خَلَقَ السَّمَٰوٰتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَأْتِ بِخَلْقٍ جَدِيدٍ ⑲ وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ بِعَزِيزٍ ⑳

آیا نه وینی (نه پوهیږی ای لیدونکیه!) چه بیشکه الله پیدا کړی دی اسمانونه او ځمکه (او مافیهما) په حقه سره (لکه چه اراده ئی وه) ، که اراده وفرمائی (الله د هلاکولو د تاسی) نو بو به ځی تاسی (په مړینه سره) او رابه ولی نور خلق نوی (یعنی پیدا به ئی کړی). او نه دی دغه (اهلاک د تاسی او پیدا کول د نورو) په الله باندی سخت او مشکل (بلکه آسان دی) .

**تفسیر:** یعنی ښائی کفارو ته داسی خیال پیدا شی کله چه موږ به خاورو کښی سره گډ او خاوره شو ، نو بیا به بل ژوندون څرنگه وی ؟ د قیامت او عذاب او ثواب خبری گردی (تولی) افسانی دی ، نو د دغه خیال په تردید کښی دا ورښیی ، هغه الله ته چه اسمان او ځمکه ئی پخپل کامل قدرت او حکمت سره پیدا کړی دی ، ستاسی بیا ژوندی کول ـ یا د بل کوم مخلوق دروِل ودانول ستاسی په ځای کښی هیڅ سخت او مشکل نه دی که د اسمان او ځمکی د محکم نظام له لیدلو څخه دغه یقین در حاصلیږی چه د هغو پیدا کوونکی او قائم ساتونکی کوم داسی ذات شته چه صانع او حکیم دی لکه چه د «بالحق» په لفظ سره ئی تنبیه فرمایلی ده ، نو څرنگه ویلی شئ چه هغه به اشرف المخلوقات (انسان) محض یو بی نتیجی شی پیدا کړی وی ؟ ـ او د ده د تخلیق او ایجاد سره به بل کوم عظیم الشان مقصد متعلق نه وی ؟ له دغه ژوندون څخه وروسته به بل ژوندون وی چه په هغه سره د آدم د پیدایښت عظیم مقصد په اکمله او اتمه طریقه سره ښکاره شی .

وَبَرَزُوا لِلَّهِ جَمِيعًا فَقَالَ الضُّعَفَاءُ لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا إِنَّا
كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ أَنتُم مُّغْنُونَ عَنَّا مِنْ عَذَابِ اللَّهِ مِن
شَيْءٍ ۚ قَالُوا لَوْ هَدَانَا اللَّهُ لَهَدَيْنَاكُمْ ۖ سَوَاءٌ عَلَيْنَا أَجَزِعْنَا أَمْ
صَبَرْنَا مَا لَنَا مِن مَّحِيصٍ ﴿٢١﴾ وَقَالَ الشَّيْطَانُ لَمَّا قُضِيَ الْأَمْرُ
إِنَّ اللَّهَ وَعَدَكُمْ وَعْدَ الْحَقِّ وَوَعَدتُّكُمْ فَأَخْلَفْتُكُمْ ۖ وَمَا كَانَ
لِيَ عَلَيْكُم مِّن سُلْطَانٍ إِلَّا أَن دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لِي ۖ فَلَا
تَلُومُونِي وَلُومُوا أَنفُسَكُم ۖ مَّا أَنَا بِمُصْرِخِكُمْ وَمَا أَنتُم بِمُصْرِخِيَّ ۖ
إِنِّي كَفَرْتُ بِمَا أَشْرَكْتُمُونِ مِن قَبْلُ ۗ إِنَّ الظَّالِمِينَ لَهُمْ
عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢٢﴾

---

او ظاهر به شی (خلائق له قبورو د) دوی الله ته تول ، نو وبه وائی کمزوران (د کفارو) هغو کسانو ته چه کبر لوئ به ئی کوله (په کفر کښې) چه بیشکه مونږ وو تاسی ته (په دنیا کښې) تابعان نو آیا اوس ئی تاسی دفع کوونکی له مونږ څخه له (دغه اخروی) عذابه د الله څخه څه څیز ، نو وبه وائی (دغه مشرکان) که هدایت کړی (لاره ښوولی) وی مونږ ته الله نو خامخا هدایت (لارښوونه) به کړی وه مونږ تاسی ته ، برابر دی (اوس) پر مونږ چه آیا شور ، فریاد وکړو ؟ یا که صبر وکړو نشته مونږ ته هیڅ ځای د خلاصی . او وبه وائي شیطان کله چه فیصله شی امر (د حساب په قیامت کښې) بیشکه چه الله وعده کړی وه له تاسی سره (په دنیا کښې) وعده د حق (چه بعث او جحیم او نعیم دی) او وعده کړی وه ما له تاسی سره بیا نو خلاف می وکړله تاسی سره (په وعده کښې لکه چه اوس درښکاره شو) ، او نه ؤ ماته پر تاسی هیڅ حکومت (او غلبه) مگر دا قدر چه وبللئ ما تاسی (گمراهی ته) نو قبول کړ تاسی (په تشو غلولو سره) دعوت زما ، نو مه ملامتوئ تاسو ما او ملامت کړئ نفسونه (ځانونه) خپل نه یم زه اوس فریاد

رس (له عذابه خلاصوونکی) ستاسی او نه یئ تاسی فریاد رس (له عذابه خلاصوونکی) زما ، بیشکه زه کافر (منکر بیزاره یم) له هغه اشراکه د تاسی ما لره (له الله سره په طاعت کښی) پخوا (له دی نه په دنیا کښی)، (نو فرمائی الله) بیشکه چه ظالمان شته دوی ته عذاب ډیر دردناک.

---

**تفسیر:** یعنی له ګردو (تولو) ځنی په یوه لویه عدلیه محکمه کښی به ګرد (تول) خلائق کله چه له خپلو قبورو څخه ژوندی پاڅولی کیږی او راوړاندی کیږی ، او په خورا (ډیر) ښکاره صورت په عرصات کښی د الله تعالیٰ په حضور کښی ګرد (تول) سره تولیږی ، نو وبه وائی د کفارو کمزوران هغو کسانو ته چه کبر ئی کاوه چه بیشکه مونږ وو تاسی لره تابعان نو آیا پس یئ تاسی دفع کوونکی له مونږ څخه له عذابه د الله څخه د څه څیز ؟ یعنی اتباع به خپلو متبوعینو ته داسی وائی چه «په دنیا کښی تاسی له خپلو ځانونو څخه لویان او مشران جوړ کړی ؤ ، نو ځکه مونږ ستاسی ډیر اطاعت او متابعت وکړ نو نن د دغه مصیبت په وقت کښی مونږ ته څه ګټه (نفعه) او فائده راورسوئ! آیا داسی کیدی شی چه د دغه الله تعالیٰ د عذاب کومه برخه له مونږ څخه لری یا سپکه کړئ ؟» دغه وینا به وروسته د دوزخ له ورتګه وکړی ـ یا به د حشر په میدان کښی ووائی ـ ابن کثیر رحمة الله علیه اول احتمال ته ترجیح ورکړی ده لقوله تعالیٰ ﴿ وَإِذْ يَتَحَاجُّونَ فِي النَّارِ فَيَقُولُ الضُّعَفَاءُ لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا ﴾ الآیة ـ وغیر ذلک من الایات والله اعلم

( ﴿ قَالُوا لَوْ هَدَانَا اللَّهُ لَهَدَيْنَاكُمْ ﴾ نو وبه وائی دغه مشران که هدایت کړی لاره ښوولی وی مونږ ته الله نو خامخا هدایت ، لار ښوونه به کړی وه مونږ تاسی ته ـ الخ) یعنی که الله تعالیٰ په دنیا کښی مونږ ته توفیق راپه برخه کړی وی نو مونږ به تاسی هم له خپلو ځانونو سره یو ځای په سمه لاره بیولی وی لیکن مونږ پخپله وښویدو او تاسی مو هم له خپلو ځانونو سره د ضلالت په سیند کښی ډوب کړئ ـ یا به ئی دا مطلب وی که الله تعالیٰ مونږ ته داسی کومه لاره راوښوده چه له دغه عذابه ووتو ، نو مونږ به تاسی ته هم همغه لاره وښیو اوس خو مونږ هم ستاسی پشان په سخت مصیبت کښی مبتلا یو ـ او مصیبت هم داسی دی چه له هغه څخه د ژغورنی (خلاصیدلو) هیڅ صورت نه ښکاری ـ نه له صبر کولو او چوپ (چپ) کیناستلو ځنی څه ګټه (نفعه) او فائده رارسیږی او نه له ویریدلو او چغو وهلو څخه څه په لاس راځی

( ﴿ وَقَالَ الشَّيْطَانُ ﴾ الآیة ـ او وائی شیطان کله چه فیصله وشی د ګردو (تولو) کارونو) یعنی له حسابه او کتاب څخه وروسته کله چه داسی فیصله صادره شی چه جنتیان په جنت کښی او دوزخیان دوزخ ته لاړ شی ، نو هلته پخوا له دی نه چه دوزخیان په دوزخ کښی ولویږی ، دوزخیان به پر لعین ابلیس باندی الزام اړوی ، چه ای مردوده تا په دنیا کښی مونږ تیر ایستو ، او له لاری څخه دی بی لاری کړو ـ او په دغه مصیبت کښی دی ککړ کړو نو اوس زمونږ څه تدبیر او چاره هم وکړه ! مثلاً د سپارش او نورو څه انتظام وکړه ! چه د الله تعالیٰ له دغه عذابه

ژغورنه (نجات) مو په برخه شي ـ دلته لعين ابليس دوی ته به داسې يوه وينا وکړي چه د هغې حاصل دا دی «بيشکه الله تعالیٰ د صادق‌القولو انبياؤ په ژبه او واسطه د ثواب او عقاب او د دوزخ او جنت په متعلق داسې رښتيا وعدې فرمايلې وې چه د هغوی صداقت په دنيا کښې د دلائلو او براهينو له مخې ثابت ؤ ـ او نن هم په مشاهده سره ظاهر دی ـ ما د هغه په مقابل کښې تاسې ته د دروغو خبرې او غلطې وعدې کړې وې چه د هغو کذب او دروغ هم په دنيا کښې په ادنیٰ فکر او تأمل سره واضح او ښکاره کيدی شو ـ او دلته خو ستاسې تر سترګو لاندې د هغې بدې نتيجې راڅرګندې (ښکاره) دي ـ له ما سره نه د حجت او د برهان قوت ؤ ـ او نه داسې بل کوم طاقت او قوت ؤ چه په زور او زياتې سره مې تاسې داسې يوې وړوکې خبرې ته اړ (محتاج) او مجبور کولې شوې ـ بلاشبه ما تاسې ته د بدئ تحريک کړی دی ـ او تاسې ته مې د خپلې دلې په لورې د راتلو بلنه کړې ده تاسې پخپله په منده او ډيرې خوښې زما په لورې راوڅغليدئ ـ او هر لورې ته چه ما تاسې راوغوښتئ ـ تاسې همغه لورې ته په ډيرې خوښې او مينې روان شوئ ـ که ما تاسې اغواء ، ګمراه او بې لارې کړئ ـ نو تاسې ولې ړانده شوئ ؟ نه مو دليل واوريد ، نه مو برهان وليد ـ نه په دعوی باندې وپوهيدئ ـ او نه مو اول او نه مو آخر ته وکتل ـ سترګې مو پټې کړې او زما تر شا مو منډې وهلې د انصاف خبره خو دا ده چه له ما څخه پر خپلو نفسونو باندې زيات الزام او ملامتې واړوئ ! زما د اغواؤ غولولو ، لمسولو او تير ايستولو جرم پر خپل ځای پاتې دی ـ ليکن زما پر مجرمولو تاسې کله پاک او برې کيدی شئ نن تاسې ته مدد رسونه چيرې ـ پخپله له تاسې څخه مدد اخيستل هم امکان نه لري ـ مونږ او تاسې دواړو د خپلو خپلو جرائمو سره برابر په سزا کښې نيولې کيږو ـ هيڅ يو به د بل په داد او فرياد نه شي رسيدی ـ تاسې له خپله حماقته په دنيا کښې زه د الله تعالیٰ شريک ودرولم يعنې ځينې مستقيماً د شيطان په عبادت کښې لګيا شول ـ او ډير کسان د شيطان پر خبرو داسې وغوليدل ـ او د ده د احکامو انقياد ئې په داسې ډول (طريقه) سره وکړو چه هغسې د الله تعالیٰ د احکامو اطاعت او انقياد به ئې کاؤ پر هر حال زه له هغه شرک او کفره چه تاسې پخپل جهل او غباوت سره کړی دی بيخې منکر او بيزاره يم . يا «بما اشرکتمون» کښې باء سببيه‌واخيسته شي ، او داسې مطلب ترې وويست شي «تاسې ماته د خدائ رتبه راکړه او له دی سببه مو له ما څخنې هم ډير لوی کافر جوړ کړ ـ که چا زما خبرو ته اهميت نه ورکاوه زما په عبادت کښې نه لګيا کيده ، نو زه به د کفر او طغيان دغې درجې ته کله رسيدم ـ نو اوس هر ظالم او مشرک لره ښائې چه د خپلو اعمالو او د کړيو چارو (کارونو) سزاوی د دردناک عذاب په صورت وګالي (برداشت کړي) ـ ! له شر شور نښلولو او الزام اړولو څخه هيڅ شی مو په لاس نه درځي» .

په تير آيت کښې د ضعفاؤ او متکبرينو د کشرانو او مشرانو د خبرو او اترو نقل وکړی شو ، د هغه په مناسبت د دوزخيانو د خورا (ډير) لوی مشر لعين ابليس تقرير او وينا نقل فرمائې ـ کله چه د عوامو الزام او د دوی استدعا په دغو دواړو ځايونو کښې يو شان وه نو ښائې ځکه د

شیطان د خبرو او اترو په منځ کښې د هغه ذکر کول ضروری معلوم نشو والله اعلم .
د دغو مکالماتو له نقل کولو څخه مقصود دا دی چه خلق د دغه اضطراب او پریشانی له تصوره او اندیښنی د شیاطین الجن والانس له اتباع او پیروی څخه مخ وګرځوی .

---

وَأُدْخِلَ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ ۖ تَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَامٌ ﴿٢٣﴾

---

او داخل به کړی شی هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه په هسی) جنتونو کښې چه بهیږی لاندی له (مانیو او ونو د) هغو (څلور قسمه) ویالی په دی حال چه همیشه به وی دوی په دغو (جنتونو کښې داخل به کړی شی دوی په حکم او) په اذن د رب د دوی، پیشکشی د دوی (به په وقت د ملاقات کښې) په دغه جنت کښې لفظ د سلام وی.

---

**تفسیر:** دغه ئی د مقابلی په ډول (طریقه) سره د کفارو له سزا څخه وروسته د مؤمنینو ښه انجام او خاتمه وفرمایله حضرت شاه صاحب لیکی چه په دنیا کښې «سلام» دعاء ده د سلامتیا غوښتلو دپاره ـ او په آخرت کښې سلام ویل مبارکی ده پر سلامتی موندلو .

---

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ ﴿٢٤﴾ تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا ۗ وَيَضْرِبُ اللَّهُ الْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٥﴾ وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٍ كَشَجَرَةٍ خَبِيثَةٍ اجْتُثَّتْ مِن فَوْقِ الْأَرْضِ مَا لَهَا مِن قَرَارٍ ﴿٢٦﴾

---

آیا وینی ته (ای بنده) څرنګه بیانوی الله یو مثال کلمه پاکیزه (چه لا اله الاالله ده) په شان د هغی ونی پاکیزی (د خرما ده) چه بیخ د دی خښ وی (په ځمکه کښې) او څانګی ئی (پورته) په (جانب د) اسمان (تللی) وی ، چه ورکوی (دا ونه) خوراک (میوه) خپله هر مقرر وقت په اذن (حکم) د رب خپل ، او بیانوی الله مثالونه دپاره د خلقو دپاره د دی چه دوی پند پری

واخلی . او مثال د کلمی خبیثی (چه کلمه د کفر ده) په شان د هغی ونی خبیثی (بدبوئی بدخوندی لکه د مرغونی د بوتی) دی چه ایستلی شوی وی له سر د ځمکی چه نه وی ده ته هیڅ قدر قرار (ثبات استحکام).

---

**تفسیر:** یعنی وګورئ او غور وکړئ څرنګه باموقعه او معنی پیدا کوونکی مثال دی عقلمن هومره چه په ده کښی غور وکړی هغومره په سلهاؤ دقائق مسلسلاً تری پیدا کیږی . په پاکیزه خبری کښی د توحید کلمه ـ د الله تعالیٰ د معرفت خبری ـ ایمان او ایمانیات ـ قرآن ـ حمد ـ او ثنا ـ تهلیل ـ تسبیح او رښتیا ویل ګرد (تول) سره داخل دی .
په اکثرو روایاتو او آثارو کښی دلته د پاکیزه ونی مصداق د خرما (کجوری) ونه درولی شوی ده ګواکی نوری پاکیزه ونی هم تر دی لاندی داخلی کیدی شی .
( ﴿ اَصۡلُهَا ثَابِتٌ وَّفَرۡعُهَا فِی السَّمَآءِ ﴾ چه بیخ د دی خښ وی په ځمکه کښی او څانګی ئی پورته په جانب د اسمان تللی وی) یعنی د هغی بیخ د ځمکی په ژوره (خکته) کښی غوړیدلی وی چه په ډیر زورور او سخت باد او سیلی سره هم هغه له بیخه نه ایستلی کیږی ـ او د هغی څانګی اسمان ته رسیدلی دی یعنی څانګی ئی ډیری لوړی او د ځمکی له کثافتونو څخه لری وی

( ﴿ تُؤۡتِیۡۤ اُکُلَهَا کُلَّ حِیۡنٍۭ بِاِذۡنِ رَبِّهَا ﴾ چه ورکوی دغه ونه میوی خپلی هر وقت کښی چه ورته مقرر کړی وی الله په اذن او حکم د رب خپل سره چه اول «بسر» او په وسط کښی «رطب» او په اخر کښی «ثمر» ورکوی او «تمر» ئی خو هر کله موجود وی) یعنی هیڅ یو فصل له میوو او ثمراتو څخه تش نه وی پاتی یا ئی فرض کړئ چه په دولسو میاشتو کښی ګهیځ (سحر) او ماښام په پری تازه میوی څوړندی وی په «کلمة خبیثة» کښی د کفر کلمه ـ دروغی خبری ـ او هره هغه خبره چه د الله تعالیٰ له مرضی څخه مخالفه وی ، داخله ده . او علیالاکثره له دی نه حنظل (مرغونی ، زار زنګی تربوز ابوجهل) مرادوی ـ ګواکی د لفظ په عموم کښی هره خرابه ونه شامله کیدی شی یعنی لکه چه هیڅ بیخ ونه لری او په لږ اشاره سره له ځمکی څخه وځی ګواکی د هغه کم قوتی او ناپایداری ښکاره کړی ده ، د دواړو مثالونو حاصل داسی شو چه مسلمانانو د توحید او ایمان دعوی پخه او رښتیا ده چه د هغه دلائل نهایت صاف او صحیح او مضبوط دی او د دی له امله (له وجی) چه د فطرت سره موافقه ده د هغی ریښی د زړونو ژورو ته راښکته کیږی او د صالحه ؤ اعمالو څانګه عین د قبول تر اسمانه پوری لګیږی
﴿ اِلَیۡهِ یَصۡعَدُ الۡکَلِمُ الطَّیِّبُ وَالۡعَمَلُ الصَّالِحُ یَرۡفَعُهٗ ﴾ (۲۲ جزء د فاطر (۱۰) اية ۲ رکوع) د هغه د لطیفو او خوږو ثمراتو څخه د موحدینو ژبه او خوله خوږه او خوندوره کیږی ـ الغرض د حق او صداقت او توحید او معرفت همیشه بهارونه او پسرلی ورځ په ورځ وده کوی ، او لوئیږی او په ډیری پائداری سره لوړیږی او بالعکس د دروغو خبرو او شرک او کفر او د باطنی دعوی بیخ هیڅ نه وی ـ د باد په لږ خوځولو سره له بیخه وځی ، د ناحقی خبری په اثبات کښی هومره زور چه

ولګولی شی لیکن د انسانی ضمیر او فطرت د مخالفت له امله (له وجی) د هغه بیخ د زړونو تر بیخه نشی رسیدی ـ د لږ څه فکر کولو په اثر غلط راښکاری نو ځکه مشهور دی چه دروغ پښی نه لری ، یعنی د رښتیا په شان پر خپلو پښو نشی تلی او نه له هغو څخه په زړونو کښی څه نور پیدا کیږی زمونږ امام فخرالدین رازی رحمة الله علیه د صوفیه ؤ په طرز د دغو مثالونو په بیان کښی له ډیر اطنابه کار اخیستی دی ـ چه دلته د هغو د نقلولو ځای او ګنجائش نشته

يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْاٰخِرَةِ ۚ وَيُضِلُّ اللّٰهُ الظّٰلِمِيْنَ ۙ وَيَفْعَلُ اللّٰهُ مَا يَشَآءُ ﴿۲۷﴾

مضبوطوی الله هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی په خبره ثابته سره په ژوندون د دنیا (په وقت د فتنی او مرګ) کښی او په آخرت کښی (یعنی په قبر کښی) او ښویوی الله ظالمان (له دغی ثابتی خبری او هیروی ئی تری په دنیا او عقبٰی کښی) او کوی الله هر هغه څه چه اراده وفرمائی (د کولو ئی له اهداء د مومنانو او اضلال د مشرکانو).

**تفسیر:** یعنی حق تعالیٰ د توحید او ایمان په خبرو (چه د هغو مضبوطی او پایداری په پخوانی مثال کښی ظاهره کړی شوی ده) مومنان په دنیا او آخرت کښی مضبوط او ثابت قدموی ـ پاتی شو د قبر منزل چه د دنیا او آخرت په منځ کښی «برزخ» دی هغه په دنیا یا په آخرت کښی ګډ شمیرلی شوی لکه چه له اسلافو څخو دغه دواړه اقوال منقول دی . غرض دا دی چه مومنین د دنیا له ژوند څخه نیولی تر محشر پوری د هم دغی طیبی کلمی په برکت مضبوط او ثابت قدم پاتی کیږی ـ په دنیا کښی له هومره حوادثو او آفاتو سره چه مخامخ شی ـ او هر رنګه سخت امتحان او ازموینه چه تری واخیسته شی ـ په قبر کښی چه د نکیرینو سؤال او جواب وشی ـ د محشر هولناکه منظره سره له دی چه فکر او هوش وړونکی وی ـ په هره موقع کښی هم دغه د توحید کلمه د ده د میرانی ـ ثبات او استقامت ذریعه ګرځی .

﴿ وَيُضِلُّ اللّٰهُ الظّٰلِمِيْنَ ﴾ او ښویوی اړوی الله ظالمان مشرکان له دغی ثابتی خبری او هیروی ئی تری په دنیا او عقبٰی کښی له ظالمانو څخه مراد دلته کفار او مشرکین دی ـ دوی په دنیا کښی هم وښوئیدل ـ او په آخرت کښی هم ښوئیږی ، او له سره د حقیقی بری او کامیابی مخه به ونه وینی .

( ﴿ وَيَفْعَلُ اللّٰهُ مَا يَشَآءُ ﴾ او کوی الله هر هغه چه اراده وفرمائی د کولو ئی) یعنی سم له خپل حکمت سره هره معامله چه له چا سره وړ (لائق) او مناسبه وی ، همغه ورسره کوی.

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ بَدَّلُوا نِعْمَتَ اللَّهِ كُفْرًا وَأَحَلُّوا قَوْمَهُمْ
دَارَ الْبَوَارِ ﴿٢٨﴾ جَهَنَّمَ يَصْلَوْنَهَا ۖ وَبِئْسَ الْقَرَارُ ﴿٢٩﴾ وَجَعَلُوا لِلَّهِ
أَندَادًا لِّيُضِلُّوا عَن سَبِيلِهِ ۗ قُلْ تَمَتَّعُوا فَإِنَّ مَصِيرَكُمْ إِلَى النَّارِ ﴿٣٠﴾

آیا نه ئی خبر نه ګوری ته هغو کسانو (د کفارو) ته چه بدل کړی ئی دی نعمت د الله په ناشکری سره(په اختیار د کفر) او راښکته کړی دی دوی قوم خپل په دار د هلاک کښی ، چه دوزخ دی ، داخل به شی دوی په هغه کښی ، او بد ځای د قرار او هستوګنی دی (دا دوزخ) او ګرځولی ؤ دوی الله ته شریکان دپاره د دی چه ګمراه کړی (واړوی خلق) له لاری (د توحید) د الله ووایه (ای محمده دوی ته) چه نفعه واخلئ تاسی (په شهواتو سره په دنیا کښی) نو بیشکه بیرته ورتله ستاسی اور د دوزخ ته دی.

**تفسیر:** له دی نه د کفارو او مشرکینو مشران او سرداران مراد دی خصوصاً د قریشو رئیسان چه د دوی په لاس کښی په هغه وقت کښی د عربو واک (قبضه) او اختیار ؤ . یعنی الله تعالیٰ پر دوی ځومره انعام او احسان فرمایلی دی ـ د دوی د هدایت دپاره ئی محمد صلی الله علیه وسلم لیږلی دی ـ قرآن ئی نازل کړی دی ـ د بیت الحرام مجاوران ئی ګرځولی دی ـ د عربو مشرتیا ئی ورته روزی کړی ده دوی د پاک الله د دغو نعمتونو او احساناتو مقابله په دی سره وکړه چه د الله تعالیٰ پر ناشکری ئی ملاوی وتړلی او د ده خبری ئی دروغ وبللی ـ د ده له رسول سره وجنګیدل ـ په آخر کښی ئی خپل قوم له خپلو ځانونو سره یو ځای بیولی د هلاکت په کنده کښی ولویدل .

( ﴿ وَجَعَلُوا لِلَّهِ أَندَادًا لِّيُضِلُّوا عَن سَبِيلِهِ ﴾ او ګرځولی وو دوی شریکان دپاره د دی چه ګمراه کړی او واړوی خلق له لیاری د توحید د الله تعالیٰ نه) یعنی که دوی د الله تعالیٰ له نعمتونو او احساناتو څخه متاثر شوی وی او د حقیقی منعم په شکر ګزاری او اطاعت شعاری کښی لګیا وی نو ډیر به ښه ؤ ـ مګر دوی داسی ونه کړل ـ بلکه بالعکس بغاوت ئی غوره کړ ـ او د پاک الله په مقابل کښی ئی نور داسی شیان ودرول ـ چه پر هغو ئی د الوهیت اختیارات ویشلی ؤ ـ او هغه عبادت ئی چه واحد الله ته مخصوص ؤ ، په مختلفو عنوانونو سره د دوی دپاره ثابت کړ ـ څو په دغی سلسلی کښی له خپلو ځانونو سره نور خلق هم بی لاری کړی ـ او ګمراهی ته ئی واړوی او د خپل سیادت په لومه (دام) کښی ئی راګیر کړی

( ﴿ قُلْ تَمَتَّعُوا فَإِنَّ مَصِيرَكُمْ إِلَى النَّارِ ﴾ ووایه ای محمده ! دوی ته چه نفع واخلئ تاسی په شهواتو سره په دنیا کښی نو بیشکه ورتله ستاسی اور د دوزخ ته دی) یعنی ښه دی دغه

بیوقوفان پخپلو لومو د کفر او شرک کښی راګیر کړئ ، او څو ورځی ښه عیش او عشرت او دنیوی ښی مزی او خوښی وکړئ مګر تر کله پوری ؟ بالاخر تاسی به د دوزخ په اور کښی تل اوسیږئ ، ځکه چه د هسی دنیوی عیش او عشرت نتیجه به هم دا وی ـ ګواکی دغه جمله داسی شوه لکه چه یو طبیب له یو بد پرهیز مریض څخه خفه شی او ورته ووائی «کل ما ترید فان مصیرک الی الموت ـ څه چه دی زړه غواړی وئ خوره ځکه چه هم دغه مرض هرومرو (خامخا) ستا ساه وباسی»

قُلْ لِّعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَيُنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيْهِ وَلَا خِلٰلٌ ﴿٣١﴾

ووایه (ای محمده) هغو بندګانو زما ته چه ایمان ئی راوړی دی چه سم دی دروی (ادا کړی) لمونځ او ورکړه دی کوی ځینی له هغه ماله چه ورکړی دی مونږ دوی ته په پټه (که مستحب ؤ) او په ښکاره (که فرض ؤ یا واجب) پخوا له راتلو د هغی ورځی چه نشته سودا پلورل (خرڅول) او پیرودل (اخستل) په هغی کښی او نه دوستی.

تفسیر: د کفارو د احوالو له ذکر کولو څخه وروسته د مخلصینو مؤمنینو د تنبیه دپاره ئی داسی وفرمایل څو دوی په پوره ډول (طریقه) سره وپښ شی ، او د عبودیت په وظائفو کښی یوه ذره هم فرق او توپیر (تفاوت) رانه ولی ـ په زړه او ځان سره د خالق عبادت او د مخلوق خدمت وکړی ، چه هغه ډیر ښه عبادت دی ـ لمونځونه دی د هغو له حقوقو او حدودو د رعایت سره په کامل خشوع او خضوع سره تل ادا کړی ـ د پاک الله له ورکړی څخه یوه برخه خفیه یا علانیه پر مستحقینو ولګوی . الغرض د هغو کفارو په مقابل کښی چه په کفر او شرک او د نعمتونو په ناشکری کښی ډوب تللی دی ، مؤمنانو ته لازم دی چه په خپلو ځانونو او مالونو د الله تعالیٰ په عبادت او شکر ایستلو سره خپله مستعدی څرګنده (ښکاره) کړی

( ﴿ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيْهِ وَلَا خِلٰلٌ ﴾ پخوا د راتللو د هغی ورځی چه نشته سودا او پلورل (خرڅول) او پیرودل (اخستل) په هغی کښی چه مقصر څه ورکړی او ځان پری واخلی او نه به پکښی دوستی وی کفارو لره چه ګوندی خلاص شی د چا په دوستی سره) یعنی لمونځ او فی سبیل الله انفاق او نور حسنات په هغه ورځ به د دوی په کار ورځی بیع او شری او تش د دوستی او خپلوی تعلقات له سره د دوی په کار نه ورځی ـ نه به هغه څوک نیک عمل پیرودی (اخستلی) شی ـ او نه به داسی کوم دوست او خپلوان پیدا کیږی چه بی له ایمانه او صالح عمله تش د دوستی د تعلقاتو لامله (له وجی) د ده د نجات ذمه پر خپل ځان واخلی . ربط پخوا د

کفارو د ناشکری ذکر ؤ ـ بیا د مومنینو د طاعت د مراسمو د اقامت حکم ئی ورکړ او د شکر گزاری په لوری ئی تشویق ورکړ ـ وروسته د الٰهیه ؤ نعماؤ څخه د څو عظیم‌الشانو نعمتونو ذکر فرمائی چه د هر مؤمن او کافر په حق کښې عام او تام دی ـ څو د هغو له اوریدلو څخه مؤمنینو ته د شکر ایستلو دپاره لا ترغیب وشی او کفار هم غور وکړی او پخپلو زړونو کښې وشرمیږی چه دوی څرنگه د داسی لوی منعم او اکبر محسن او مالک الملکوت څخه بغاوت کوی ؟ په دغه ضمن کښې د الله تعالیٰ د عظمت او وحدانیت دلائل هم بیان شول ـ او امکان لری چه د هغو له اوریدلو څخه کوم عاقل او منصف له شرکیاتو څخه مخ واړوی یا د ده د عظمت او جبروت په دغو نښو کښې غور او دقت وکړی او د ده له نیولو او سزا ورکولو څخه وویریږی ، او مسلمان شی .

اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَاَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَخْرَجَ بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْفُلْكَ لِتَجْرِیَ فِی الْبَحْرِ بِاَمْرِهٖ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْاَنْهٰرَ ﴿۳۲﴾ وَسَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ دَآئِبَیْنِ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّیْلَ وَالنَّهَارَ ﴿۳۳﴾ وَاٰتٰىكُمْ مِّنْ كُلِّ مَا سَاَلْتُمُوْهُ ؕ وَاِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ لَا تُحْصُوْهَا ؕ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَظَلُوْمٌ كَفَّارٌ ﴿۳۴﴾

الله هغه ذات دی چه پیدا کړی ئی دی اسمانونه او ځمکه (او مافیهما) او نازلی کړی ئی دی (له طرفه) د اسمانه اوبه ، نو رایستلی ئی دی په دی اوبو سره له هر قسمه میوو څخه رزق (روزی) تاسی ته ، او مسخر (تابع) کړی دی تاسی ته بیړی دپاره د دی چه گرځی په سیند کښې په امر (حکم) د دغه (الله) سره او مسخر کړی (لگولی) دی تاسی ته ویالی او مسخر کړی (په کار لگولی) دی دپاره د منافعو ستاسی لمر او سپوږمی په دی حال چه گرځیدونکی دی سم له دستور سره برابر ، او په کار کښې ئی لگولی دی تاسی ته شپه او ورځ ، او درکړی دی تاسی ته ځینی له هر هغه څیز چه سوال کړی دی تاسی د هغه (شی سم له مصلحته) ، او که وشمیرئ تاسی (تول انواع او گرد (تول) افراد د) نعمت د الله نو وبه نه شمیرلی شئ تاسی دا نعمتونه د الله (تر آخره پوری) بیشکه انسان خامخا لوی ظالم ډیر ناشکره

دی

**تفسیر:** یعنی له آسمان ئی اوبه رانازلی کړی یا ئی دا مطلب چه د ورښت (باران) په نزول د بخاراتو او نوررو ظاهری اسبابو څخه برسیره نور غیر مرئی‌سماوی اسبابو لره هم دخل شته ـ وګورئ د لمر پلوشی (اشعه) د سپوږمی وړانګی (ضیاء) د ستوری ځلیدل ـ د هوا چلیدل ـ د اوبو بهیدل د اور بلیدل ـ د ځمکی غوړیدل انسانانو ته څومره زیاتی ګټی او منافع رسوی؟ وګورئ چه د لمر پلوشی (اشعه) د نورو اشیاؤ په شان پر اور ورکوونکی هنداری (شیشه اتشی) هم لویږی لیکن هغه د خپل مخصوص جوړښت او استعداد په وسیله له همغو اشعاتو څخه په غیر مرئی‌دول (طریقه) سره په دی اندازه د ده له حرارت څخه استفاده کوی چه نور شیان ئی له هغه څخه نشی کولی ـ سپوږمی له سمندره څومره لری ده لیکن د دی له تزئیده او تنقیصه د سمندر په اوبو «مد» او «جزر» پیدا کیږی ـ هم داسی که وریځی هم د کومی سماوی خزانی څخه په یوی غیر مرئی‌طریقی سره مستفید شی نو د انکار دپاره څه دلیل په لاس شته ؟،

( ﴿ فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَكُمْ ﴾ نو رایستلی دی الله په دی اوبو سره له هر قسمه میوو رزق روزی تاسی ته ای انسانانو !) یعنی الله تعالیٰ د خپل قدرت او حکمت په کمال سره په اوبو کښی داسی یو قوت پیدا کړی دی چه د ونو او کښتونو (فصلونو) او د نورو د ودی او نشوونما او حاصل ورکولو سبب ګرځی ـ او د همغو په ذریعه مونږ د هغو له میوو او حاصلاتو څخه مستفید کیږو .

( ﴿ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْفُلْكَ لِتَجْرِيَ فِي الْبَحْرِ بِأَمْرِهِ ﴾ او مسخر تابع کړی دی تاسی ته بیړی دپاره د دی چه وګرځی په سیند کښی په امر او حکم د دغه الله سره ) یعنی د سمندر په خوفناکو چپو او موجونو کښی په یوی وړوکی بیړی باندی سپریږئ ؟ او له کومه ځایه تر کومه ځایه پوری رسیږئ او په څه اندازه سره تجارتی او غیر تجارتی فوائد تری حاصلوئ دغه خو د الله تعالیٰ په قدرت او حکم سره دی چه د سمندر په لویو لویو چپو او هسکو هسکو موږو او غتو غتو شپیږو کښی یوه وړوکی (د پیاز د پوتکی په شان) بیړی یا جهاز نه یوائی ساتی بلکه له یوی لوئ وچی څخه ئی بلی لوئ وچی ته هم بیائی

( ﴿ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْأَنْهَارَ ﴾ او مسخر کړی لګولی ئی دی تاسی ته ویالی چه تصرف پکښی کوئ ـ او نفع پری اخلئ) یعنی په ویالو او خوړونو او سیندونو او ویالو او لښتیو او نورو کښی د اوبو راتلل او لری ځایونو پوری رسیدل ـ اګر که د بیړی په شان ستاسی د فکر او ارادی تابع نه ده خو بیا هم ستاسی په کارونو کښی بوخت او لګیا دی ـ هم داسی لمر او سپوږمی او ستوری هم د یوه معین نظام او ضابطه سره سمه د خپل تاکلی (مقرر کړی) دود (رواج) او دستور سره موافق تماماً تر قیامه د قیامت پوری پخپلو حرکاتو او ورسپارلیو شویو خدماتو کښی مصروف دی او له سره نه ستومانه او نه ستړی کیږی ـ او نه د دوی په حرکاتو او تاثیراتو کښی لږ څه فرق او توپیر (تفاوت) راښکاریږی ـ یا شپه او ورځ یوه پسی بله په همغه تاکلی (مقرر کړی)

عادت سره سم او تل راځي او ځي ـ دغه گرد (تول) شیان اگر که په دې معنی ستاسي په تصرف او اختیار کښي نشته چه کله مو او چیري مو چه زړه وغواړي ، د هغوی د قدرتي حرکاتو او تاثیراتو مخه ونیسئ، خو بیا هم تاسي داسي دیر تصرفات او تدابیر په کار اچولی شئ چه د هغو تاثیراتو څخه بیشماره فوائد حاصل کړئ او لکه چه کوئ ـ د انساني تصرفاتو او تدابیرو څخه ماسوا دوی بالذات هم تل تر تله ځمونږ د دې دنیا په یو نه یو خدمت کښي مشغول او لگیا دي مونږ او تاسي په هوسائی (آسانی) سره ژوندون کوو ـ او دوی سرگردانه ځمونږ په منفعت او خدمت کښي مداومت کوی

اور او باد او خاوره باړه سپوږمی او لمر دواړه

شپه ـ ورځ ـ تاوده ـ ساړه اسمان ځمکه لوی واړه

بوخت ځمونږ په چارو واړه خورو میوی داني نور خواړه

یو هوسا ـ ارام ـ ماړه لوی ځیښتن ته کیږدو غاړه

( ﴿ وَآتَاكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ ﴾ الآیة ـ او درکړی دی تاسي ته ځیني له هر هغه څیز څخه چه سوال کړی دی تاسي د هغه شي سم له مصلحته) یعنی هغه شیان چه تاسي د حال یا د قال په ژبي سره غوښتي دي ، له هغو ځني له هر شي څخه هومره حصه چه له حکمت او مصلحت سره موافقه وه په مجموعي دول (طریقه) تاسي گردو (تولو) ته مو درکړه .
( ﴿ وَإِن تَعُدُّوا نِعْمَتَ اللَّهِ ﴾ او که وشمیرئی تاسي تول انواع او گرد (تول) افراد د نعمت د الله نو وبه نه شمیرلی شئ تاسي دا نعمتونه د الله تر آخره پوری) یعنی د الله تعالیٰ نعمتونه دومره بیشماره او غیر متناهي دي چه که تاسي گرد (تول) سره یو ځای شئ ـ او په اجمالي دول (طریقه) سره د هغو په شمیرلو سره پیل (شروع) وکړئ ـ نو گرد (تول) به سره ستړی او ستومانه کیږئ . په دغه موقع کښي ځمونږ امام فخرالدین رازی رحمة الله الباری د الله تعالیٰ د نعماؤ په بی شمارتیا ـ او علامه ابو السعود د هغو د غیر متناهي توب په نسبت لږ څه شرح او بسط فرمایلی دی او د روح المعاني خاوند پر هغو باندی لږ څه مفید اضافه کړی ده چه دلته د هومره تطویل ځای نشته .
( ﴿ إِنَّ الْإِنسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ ﴾ بیشکه انسان خامخا لوی ظالم دیر ناشکره دی) یعنی د انسان په جنس کښي دیره زیاته بی انصافي او بی شکری او بیقدری شته چه سره د دومره بیشماره احساناتو له لیدلو بیا هم د حقیقي منعم حق نه پیژني او شکر ئی نه اداء کوی.

وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِيمُ رَبِّ ٱجْعَلْ هَٰذَا ٱلْبَلَدَ ءَامِنًا وَٱجْنُبْنِى وَبَنِىَّ أَن نَّعْبُدَ ٱلْأَصْنَامَ ﴿٣٥﴾

او (یاد کړه) هغه وقت چه وویل ابراهیم ای ربه ګرځوه دا ښار (د مکی) امن والا او لری وساته ما او ځامن ځما له دی نه چه عبادت به کوو د بتانو

**تفسیر:** یعنی د قریشو هغو مشرانو چه د دوی د کفران او شرک او کفر بیان پاس په ﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ بَدَّلُوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ ﴾ الآیة - کښی شوی ؤ هغوی ته د ابراهیم علیه السلام قصه ور په یادوی، او تنبیه ورکوی چه تاسی د هغه د اولادیت لامله (له وجی) د کعبة الله او لوی حرم مجاوران شوی یئ، هغه د دی کعبی اساس خاص پر توحید ایښی ؤ، د هم ده د دعاؤ په اثر الله جل‌جلاله دغه د مکی معظمی ښار ودان کړ - او په دغو کلکو پرښو (ګټو) او شګلنو ځمکو کښی د ظاهری او باطنی نعمتونو امبارونه ئی جوړ کړل حضرت ابراهیم علیه السلام له دنیا ځنی په داسی حال کښی لاړ چه داسی دعاوی او وصیتونه یی کول چه د ده اولاده د شرک طریقه اختیار نه کړی - اوس تاسی ته فکر کول او شرمیدل په کار دی چه تر کومه ځای پوری مو د ده د وصیتونو رعایت کړی دی؟ یا د ده له دعاء څخه مو برخه اخیستی ده او تر کومه حده پوری مو د الله تعالیٰ پر احساناتو شکر ایستلی دی.

( ﴿ رَبِّ ٱجْعَلْ هَٰذَا ٱلْبَلَدَ ءَامِنًا ﴾ الآیة - ای ربه ګرځوه دا ښار د مکی معظمی امن والا او وساته ما او ځامن ځما له دی نه چه عبادت کوو د بتانو) یعنی مکه معظمه «حرم آمن» وګرځوی لکه چه الله تعالیٰ مأمونه هم وګرځوله او هم زه او هم ځما اولاده د تل دپاره د بت پرستی څخه وژغوری (محفوظ کړی). او تری مو لری وساتی غالباً دلته به له اولاده ځنی خاص صلبی اولاد مراد وی نو ځکه د دوی په صلبی اولاد کښی دغه مرض رانغی او که عام ذریات تری مراد وی، نو ویلی کیږی چه دغه دعاء د ځینو په حق کښی نه ده قبوله شوی - سره له دی چه حضرت ابراهیم علیه السلام معصوم رسول ؤ مګر دا د دعاء له آدابو څخه ده چه له نورو ځنی پخوا سړی خپل ځان ته دعاء وکړی. دا راز (قسم) دعاوی چه له انبیاؤ څخه منقولی دی په هغو کښی دغی خبری ته هم اشاره ده چه د انبیاؤ عصمت هم د دوی له لوری نه دی پیدا شوی، بلکه د الله تعالیٰ له حفاظته او صیانته موجود شوی دی نو ځکه دوی تل د همغه په دربار کښی التجاء کوی چه هغه د دوی د عصمت (تلطفاً) ضامن او کفیل شوی دی.

**تنبیه:** حافظ عماد الدین ابن کثیر رحمة الله علیه په نزد ابراهیم علیه السلام دغه دعاوی د معظمی مکی د ودانی او د کعبی شریفی د تعمیر څخه وروسته کړی دی په اول جزء البقرة په ۱۲٦ تر ۱۲۹ آیاتونو او (۱۵)رکوع کښی د کومو دعاؤ چه ذکر شوی دی، هغه ئی د کعبی شریفی د بناء په وقت د اسمٰعیل علیه السلام په معیت فرمائلی دی. او دغه دعاوی ئی ډیره موده وروسته په

سپین ږیرتیا کښی کړی دی

رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ ۖ فَمَن
تَبِعَنِي فَإِنَّهُ مِنِّي ۖ وَمَنْ عَصَانِي فَإِنَّكَ غَفُورٌ
رَّحِيمٌ ﴿٣٦﴾ رَّبَّنَا إِنِّي أَسْكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيْرِ
ذِي زَرْعٍ عِندَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُوا
الصَّلَاةَ فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهْوِي إِلَيْهِمْ
وَارْزُقْهُم مِّنَ الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ ﴿٣٧﴾

ای ربه ځما بیشکه دغو (تیږو (کتو) بتانو) لغزولی دی ډیر له خلقو (چه سبب د ګمراهي د دوی شوی دی) نو هر چا چه متابعت کړی دی ځما نو بیشکه هغه له (اهل د ملت) ځما دی، او هر چا چه نافرماني کړی ده ځما نو بیشکه چه ته ئی ښه ښښونکی (د خطیاتو) ډیر رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره) ای ربه ځمونږ بیشکه چه ما اوسولی دی ځینی له اولاد خپل (چه اسمٰعیل او اولاد ئی دی) په داسی یوه وادی (ناو) کښی چه نه دی خاوند د کښت (فصل) په نزد د کوټی ستا چه حرمت (عظمت) والا ده ای ربه ځمونږه (ومی اوسول دوی دلته) د دی دپاره چه سم ودروی (اداء کړی سره له ټولو حقوقو) لمونځ نو وګرځوه (مائل کړه) زړونه د ځینو خلقو په مینه چه راځغلی (په محبت سره میلان کوی) دوی ته او رزق روزی ورکړه دوی ته له هر قسمه میوو ښخه دپاره د دی چه دوی شکر وباسی.

**تفسیر:** یعنی هغو کسانو چه د خالص توحید لپاره غوره کړی ده او ځما خبری ئی منلی دی، هغه زما په ډله کښی شامل دی. او هغه کسان چه ځما خبری ئی نه دی منلی او ځمونږ له لیاری ښخه بیل شوی دی، نو ته دوی ته پخپلی مهربانی او ښښنی سره د توبی توفیق ورکولی شی ـ که ستا لطف او مهربانی وی نو هغه به هم ایمان راوړی، او خپل ځان به د خصوصی رحمت او ابدی نجات مستحق ګرځولی شی ـ یا دا مطلب چه ته قدرت لری چه هغه هم په هم دغه موجوده حالت کښی وبښی اګر که ستا له حکمته د هغه وقوع ونشی.

**تنبیه:** د «المائدة» د سورت په آخر کښی د حضرت خلیل د دی قول او د حضرت مسیح علیه

السلام په مقوله کښې مو فرق بیان کړی دی هغه دی بیا وکتلی شی.
( ﴿ رَبَّنَآ إِنِّيٓ أَسۡكَنتُ ﴾ الآیة - ای ربه څمونږه بیشکه چه ما اوسولی دی او دیره کړی دی ځینی له اولادی خپلی په داسی یو وادی او ناو کښی چه نه دی خاوند د کښت (فصل) په نزد د کوټی ستا حرمت والا الخ) یعنی حضرت اسماعیل علیه السلام ځکه چه بل اولاد ئی حضرت اسحاق علیه السلام او نور په شام کښی وو. د الله تعالیٰ په حکم د حضرت اسمٰعیل علیه السلام د تی رودلو په وقت کښی د د والدی (بی‌بی هاجری) سره په دغه تور سپیره ډاګ او دبر دګر (میدان) کښی پریښود، او دی تری لاړ، وروسته له هغه د «جرهم» د قبیلی څه خلق هلته ورسیدل ځکه چه الله تعالیٰ د حضرت اسمٰعیل علیه السلام د تندی او د بی بی هاجری رضی الله عنها د تلوسی او مندی له امله (له وجی) د پرښتی په ذریعه هلته د «زمزم» چینه بهولی ده. نو د «جرهم» کوچیانو چه دغه اوبه ولیدی، هلته ښکته شول - او د بی بی هاجری رضی الله عنها په اجازه همغلته مسکون شول کله چه اسمٰعیل علیه السلام لوی شو نو په هم دغی قبیلی کښی ئی واده وشو. په دی دول (طریقه) چیری چه نن ورځ مکه معظمه ده یو کلی ودان شو حضرت ابرهیم علیه السلام به هم کله کله له «شام» څخه دلته تشریف راوړ او د دی ښار او د دی ښار هستیدونکو ته به ئی داسی دعاوی فرمایلی چه «ای الها ما خپل یو ځوی په دغه لامزروعه (بی کرونده) او ډاګ دبر میدان کښی ستا په حکم ستا معظم او محترم کور سره نژدی دیره کړی دی، چه دی او د ده نسل ستا او ستا د دی کور حق اداء کړی، نو ته پخپل فضل او کرم سره د خلقو زړونه دی لوری ته متوجه کړه، څو دوی دلته راشی، او ستا عبادت وکړی - او د دی ښار رونق زیات شی او هم د دوی د روزی او زړه جمعی دپاره له غیبه داسی سامان ور برابر کړه چه برسیره پر غلو او اوبو چه د ژوندانه له ضروریاتو څخه دی، عمده ثمرات او ښی میوی هم دلته په افراط سره پیدا شی چه خلق د زړه په اطمینان سره ستا په عبادت او شکر ګزاری کښی مصروف شی» پاک الله دغه ګردی (تولی) دعاوی قبولی کړی لکه چه تر نن ورځی پوری هر کال په زرګونو زرګونو انسانان له ګرده (توله) جهانه هلته سره تولیږی - او د اعلیٰ قسم میوو او عمده ثمراتو په مکی معظمی کښی دومره کثرت او افراط وی چه ښائی د دنیا په کومی بلی برخی کښی د هغه ساری او نمونه لږ وی - حال دا چه پخپله په مکه معظمه کښی یوه باثمره ونه به نه وی موجوده. له ځینو اسلافو څخه منقول دی چه حضرت ابراهیم علیه السلام پخپله دعاء کښی « ﴿ أَفۡـِٔدَةٗ مِّنَ ٱلنَّاسِ ﴾ د څه خلقو زړونه» فرمایلی ؤ که نه ګرد (تول) عالم به هغه لوری ته تلل.

رَبَّنَآ إِنَّكَ تَعۡلَمُ مَا نُخۡفِي وَمَا نُعۡلِنُۗ وَمَا يَخۡفَىٰ عَلَى ٱللَّهِ مِن شَيۡءٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ ٣٨

ای ربه څمونږ بیشکه چه تاته معلوم دی هغه چه پټوو ئی مونږه او په هغه چه

ښکاره کوو ئې، او نه دي پټ پر الله باندې هيڅ څيز (نه) په ځمکه کښې (له سفلياتو نه) او نه په اسمان کښې (له علوياتو نه).

**تفسير:** يعنې په ځمکه او اسمان کښې هيڅ له تا څخه پټ نه دی، نو بيا ځمونږ ظاهر او باطن له تا ځنې څرنګه پټ او مخفي پاتې کيدی شي؟ داسې چه فرمايلي دي «هغه چه پټوو ئې مونږ او هغه چه ښکاره کوو ئې» په دغه کښې د مفسرانو څو اقوال دي ـ ليکن د تخصيص هيڅ وجه نه ده الفاظ عام دي چه ګردو (ټولو) ښکاره ؤ او پټو شيانو ته شامل دي.
حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه فرمائي «په ظاهر کښې دعاء ئې د ګردو (ټولو) دپاره کړې ده ليکن په زړه کښې ئې دغه دعاء د اخر الزمان رسول الله لپاره فرمائلې ده»

ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى وَهَبَ لِى عَلَى ٱلْكِبَرِ إِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ ۚ إِنَّ رَبِّى لَسَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ ﴿٣٩﴾

(ټول صفت او) ثنا ده (هغه) الله لره چه رابښلي دي ماته سره له زوړ والي اسماعيل او اسحاق، بيشکه چه رب زما خامخا ښه اوريدونکی د دعاء دی.

**تفسير:** يعنې په زوړتوب کښې اسحٰق عليه السلام د «سارۍ» او اسمٰعيل عليه السلام د «هاجرې» له ګيډې څخه په غير متوقعه دول (طريقه) سره دې راعنايت فرمايلي دي لکه چه د اولاد په متعلق ځما د ﴿ رَبِّ هَبْ لِى مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴾ دعاء دې واوريده ـ دغه دعاء هم راقبوله کړه! اسمٰعيل عليه السلام په ۹۹ کلنۍ او اسحٰق عليه السلام په ۱۱۲ کلنۍ ابراهيم عليه السلام ته عطا شوي دي.

رَبِّ ٱجْعَلْنِى مُقِيمَ ٱلصَّلَوٰةِ وَمِن ذُرِّيَّتِى ۚ رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَآءِ ﴿٤٠﴾

ای ربه ځما وګرځوې ما همېشه قائموونکی (اداء کوونکی) د لمانځه (سره له ټولو حقوقو ئې) او ځنې له اولادې ځما (هم کلک کړې پر لمانځه) ای ربه زمونږ او قبوله کړې دعاء ځما.

**تفسير:** يعنې ځما په ذرياتو (اولاد) کښې دې داسې خلق تل وي چه په ښه دول (طريقه) لمونځونه دروي او په ښه شان سره ئې له ټولو حقوقو سره اداء کوي. او قبوله کړې دعا ځما توله.

رَبَّنَا اغۡفِرۡ لِیۡ وَلِوَالِدَیَّ وَلِلۡمُؤۡمِنِیۡنَ یَوۡمَ یَقُوۡمُ الۡحِسَابُ ﴿۴۱﴾

ای ربه څمونږ ببښنه وکړی ماته او مور او پلار څما ته او مؤمنانو ته په هغه ورځ (د قیامت کښی) چه قائمیږی حساب.

**تفسیر:** دغه دعاء ئی غالباً پخوا د خپل پلار د مړ کیدلو چه د کفر په حالت مړ شو او وروسته دی پری خبر شو، فرمایلی ده ـ نو مطلب به ئی داسی وی چه هغه ته د اسلام هدایت ورکړی!. او د قیامت په ورځ ئی د مغفرت وړ (لائق) او مستحق وګرځوی! او که د مړ کیدلو څخه ئی وروسته دعا فرمایلی وی، نو ښائی تر هغه وقته پوری به دی نه وی مطلع کړی شوی چه کفار د مغفرت وړ (لائق) نه دی. عقلاً د کافر مغفرت تر څو چه نقل نه وی وارد شوی محال نه دی، خو سمعاً ممتنع دی ـ نو د ده علم به پر سمع باندی موقوف وی. او پخوا له سمع ـ عقلی امکان به معتبر وی . څینو اهل التشیع داسی لیکلی دی چه په قران کښی چه د ابراهیم علیه السلام پلار ته کافر ویلی شوی دی، هغه د ده حقیقی پلار نه بلکه تره یا بل کوم لوی سری د ده له کورنی څخه ؤ. والله اعلم.

وَلَا تَحۡسَبَنَّ اللّٰهَ غَافِلًا عَمَّا یَعۡمَلُ الظّٰلِمُوۡنَ ۬ؕ اِنَّمَا یُؤَخِّرُهُمۡ لِیَوۡمٍ تَشۡخَصُ فِیۡهِ الۡاَبۡصَارُ ﴿ۙ۴۲﴾ مُهۡطِعِیۡنَ مُقۡنِعِیۡ رُءُوۡسِهِمۡ لَا یَرۡتَدُّ اِلَیۡهِمۡ طَرۡفُهُمۡ ۚ وَاَفۡـِٕدَتُهُمۡ هَوَآءٌ ﴿ؕ۴۳﴾

او مه کوه ګمان (ای انسانه) په الله چه غافل (بی خبره) دی له هغو کارونو چه کوی ئی ظالمان، بیشکه هم دا خبره ده چه وروستی کوی دوی هغی ورځی ته چه خلاصی به پاتی وی (له ډیری ویری) په هغه کښی سترګی چه، منډی وهونکی به وی دا (مخلوقات) چه جګ (وچت) نیوونکی به وی د سرونو خپلو (په طرف د بلونکی محشر کښی) بیرته به نه ګرځی دوی ته رپول د سترګو د دوی، او زړونه د دوی به تش وی (له عقله او فهمه له ډیری ویری).

**تفسیر:** یوه رکوع پخوا د ډیرو عظیمه ؤ نعماؤ د ذکر کولو په منځ کښی ئی فرمایلی ؤ « ﴿اِنَّ الۡاِنۡسَانَ لَظَلُوۡمٌ کَفَّارٌ﴾ ـ بیشکه انسان خامخا لوی ظالم او دیر ناشکره دی» وروسته له هغه د حضرت ابراهیم علیه السلام قصه ئی واوروله او د مکی معظمی کفارو ته څینی خصوصی نعمتونه

ور په یاد کړه ـ او د دوی د ظلم او شرک په لوری ئی اشاره وفرمایله په دغه رکوع کښې تنبیه فرمائی که د ظالمانو په تنبیه فرمایلو کښې څه ځنډ (ایسارتیا) وشی، نو داسی ئی مه ګڼئ چه الله تعالیٰ د دوی له حرکاتو څخه بې خبر دی. په یاد ئی ولرئ چه د دوی هیڅ یو وړوکی او لوی کار له الله تعالیٰ څخه پټ نه دی. البته د ده عادت داسی نه دی چه فوراً مجرم ونیسی او تباه ئی کړی ـ دی ډیرو لویو ظالمانو ته هم مهلت ورکوی، چه یا له خپلو جرائمو څخه لاس واخلی یا د جرائمو په ارتکاب کښې تر دی حده پوری ورسیږی چه له قانونی حیثیته د ده د سزا په مستحق کیدلو کښې هیڅ قسم خفاء پاتی نشی.

**تنبیه:** د ﴿وَلَا تَحْسَبَنَّ﴾ خطاب هر هغه انسان ته دی چه داسی یو خیال ئی په زړه کښې پیدا کیدی شی او که پاک رسول الله صلی الله علیه وسلم ته خطاب وی نو د دوی له دی مخاطبی څخه به نورو ته اورول مقصود وی. چه کله ئی خپل رسول الله صلی الله علیه وسلم ته داسی وفرمایل چه داسی خیال مه کوه! حال دا چه داسی یو خیال له سره دوی ته قریب هم نشو راتلی نو د نورو په حق کښې داسی خیال به په څه اندازه واجب الاحتراز وی.

( ﴿ إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ الْأَبْصَارُ ﴾ بیشکه هم دا خبره ده چه وروستی کوی دوی هغی ورځی ته چه خلاصی به پاتی وی په هغی کښې سترګی) یعنی د قیامت په ورځ کښې له ډیر هول ـ هیبت او دهشت څخه سترګی به هم داسی ردی بدی او تیغی پیغی راښکاری، او هم داسی بوتی وتلی، او پرانیستلی به پاتی وی یعنی رپولی به ئی نشی او هم داسی وازی به ختلی وی او هیڅ به ئی نشی پټولی

(﴿مُهْطِعِينَ﴾ الآیة ـ منډی وهونکی ځغاستونکی به وی دا مخلوقات چه جګ (وچت) نیوونکی به وی د سرونو خپلو په طرف د بلونکی په محشر کښې بیرته به نه ګرځی دوی ته رپول د سترګو د دوی ـ او زړونه د دوی به تش وی له عقله او له فهمه له ډیری ویری) یعنی په محشر کښې له سختی پریشانی خوفه ـ حیرته او اندیښنی ګرد (تول) خلق به تلوار کوونکی وی په غږ د اسرافیل علیه السلام چه دوی رابولی په دی حال کښې چه جګ (وچت) نیوونکی به وی د سرونو خپلو طرف د بلونکی ته چه نه به راګرځی بیرته په طرف د دوی سترګی د دوی او هم داسی ګرد (تول) سره سترګی همغسی یوی نقطی پوری به داسی نښتی وی، هیڅ به ئی نه رپوی، او په ډیری ویری او دهشته سره به همغه لوری ته درومی چه د دوی سترګی لګیدلی وی، او له سره به له هغه ځایه بل ځای ته نه ورګرځی، هک پک به پاتی وی او منظماً او مسلسلاً به همغی یوی نښی ته ګوری، او له سره به د هیڅ یوه نظر لاندی باندی نه کیږی، او نه به خپل او نه به د بل ځان ته ګوری ـ د زړونو حال به داسی وی چه د عقل او فهم او د بهتری له هیلی (امید) او توقع څخه به بیخی خالی او تش وی ـ او د دهشت او خوف له فرطه به سخت ترپیږی، او در ګرده (توله) به غورځنګ وهی او الوځی ـ الغرض د ظالمانو دپاره دغه وقت به نهایت سخت او ډیر حسرتناک وی. پاتی شوه د قانتینو مؤمنینو خبره نو د دوی په حق کښې په (١٧) جزء د «الانبیآ» په (١٠٣)آیة (٧) رکوع کښې داسی ارشاد صادر شوی دی ﴿لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْأَكْبَرُ وَتَتَلَقَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ﴾ .

وَأَنذِرِ النَّاسَ يَوْمَ يَأْتِيهِمُ الْعَذَابُ فَيَقُولُ الَّذِينَ ظَلَمُوا رَبَّنَا أَخِّرْنَا إِلَىٰ أَجَلٍ قَرِيبٍ نُّجِبْ دَعْوَتَكَ وَنَتَّبِعِ الرُّسُلَ ۗ

او ويروه (اى رسوله ځما) خلق له هغى ورځى څخه چه را به شي دوى ته عذاب (چه قيامت يا مرګ دى) نو وبه وائى هغه کسان چه ظلم ئى کړى دى (په شرک او تکذيب سره) اى ربه ځمونږ ورورستى کړه (مهلت راکړه) مونږ ته تر نيتى نزدى پورى چه قبوله کړو بلنه ستا او متابعت وکړو د رسولانو،

**تفسير:** د (العذاب) څخه يا خو د قيامت ورځ او اخروى عذاب مراد دى يا د موت وقت او د ده د سکراتو او د روح د قبض شدت مقصود دى يا له دنيوى عذاب څخه د هلاک کيدلو ورځ اراده کاوه شي.

﴿ فَيَقُولُ الَّذِينَ ظَلَمُوا ﴾ الآية ـ وو به وائى هغه کسان چه ظلم ئى کړى دى په شرک او تکذيب سره مهلت راکړه مونږ ته تر نيتى نژدى پورى چه قبوله کړو دعوت او بلنه ستا او متابعت وکړو د رسولانو که دغه وينا په دنيا کښى د عذاب يا د موت د شدت د ليدلو په وقت کښى وى نو ئى مطلب ظاهر دى چه اوس څو ورځى نورى هم مونږ ته مهلت راکړه! مونږ درسره وعده کوو چه وروسته له دى نه خپله رويه او عمل ښه کوو ـ يعنى د حق دعوت قبلوو ـ او د انبياؤ متابعت اختياروو کما قال الله تعالىٰ ﴿ حَتَّىٰ إِذَا جَاءَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُونِ لَعَلِّي أَعْمَلُ صَالِحًا فِيمَا تَرَكْتُ كَلَّا ﴾ (۱۸ جزء د «المومنون» ۹۹ ـ ۱۰۰ آية ٦ رکوع) او که د دوى دغه مقوله د قيامت په ورځ کښى وى، نو په دغه صورت کښى به د مهلت غوښتلو معنى داسى وى چه مونږ بيا دوهم ځلى د لږ څه مدت دپاره دنيا ته بيرته وليږه، نو بيا وګوره چه مونږ په څه اندازه خپله وفادارى درښکاره‌وو کما قال الله تعالىٰ

﴿ وَلَوْ تَرَىٰ إِذِ الْمُجْرِمُونَ نَاكِسُو رُءُوسِهِمْ عِندَ رَبِّهِمْ رَبَّنَا أَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا فَارْجِعْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا إِنَّا مُوقِنُونَ ﴾ (۲۱ جزء د «السجدة» (۱۲) آية (۲) رکوع).

أَوَلَمْ تَكُونُوا أَقْسَمْتُم مِّن قَبْلُ مَا لَكُم مِّن زَوَالٍ ﴿٤٤﴾ وَسَكَنتُمْ فِي مَسَاكِنِ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ وَتَبَيَّنَ لَكُمْ كَيْفَ فَعَلْنَا بِهِمْ وَضَرَبْنَا لَكُمُ الْأَمْثَالَ ﴿٤٥﴾

(وبه فرمائی الله توبیخاً) آیا نه وئ تاسو چه قسم به کاوه تاسی پخوا له دی نه (په دنیا کښی) چه نشته تاسی ته هیڅ زوال (له دنیا نه آخرت ته په بیا ژوندون سره) او اوسیدلی وئی تاسی په کورونو د هغو کسانو کښی چه ظلم ئی کړی وو پر ځانونو خپلو (په کفر او معاصیو سره) او ښکاره شوی ده تاسی ته (دغه خبره) چه څرنګه کار کړی ؤ مونږ په دوی باندی (د عذابه او اهلاکه) او بیان کړی ؤ مونږ تاسی ته مثالونه.

**تفسیر:** یعنی تاسی هغه کسان یئ چه له تاسی ځینی مغروړانو او بی‌باکانو به د «قال» په ژبی یا د حال په ژبی علی‌الاکثرو قسمونه به یادول چه ځمونږ دغه شان او شوکت او عیش او عشرت له سره زوال نه مومی ـ او نه به کله مرو . او نه به د الله تعالیٰ په مخ کښی د دریدلو وار رسیږی . ﴿ وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَا يَبْعَثُ اللَّهُ مَن يَمُوتُ بَلَىٰ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴾
(١٤ جزء النحل(٣٨) آیة (٥) رکوع) دغه پاک الله د هغوی له جانبه فرمائی
( ﴿ وَسَكَنتُمْ فِي مَسَاكِنِ الَّذِينَ ظَلَمُوا ﴾ الآیة ـ او اوسیدلی وئ تاسی په کورونو د هغو کسانو چه ظلم ئی کړی وو پر ځانونو خپلو په کفر او معاصیو سره او ښکاره شوی ده تاسی ته دغه خبره چه څرنګه کار کړی ؤ مونږ په دوی باندی د عذاب او اهلاک او بیان کړی ؤ مونږ تاسی ته مثالونه) یعنی ستاسی پخوانی په هم دغو کلیو کښی یا د هغو په شاؤ خواؤ کښی اوسیدل، چیرته چه پخوانی ظالمان اوسیدل، او د هم دوی عادات او اطوار ئی خپلو ځانونو ته غوره کړل ـ حال دا چه د تاریخی روایتونو او متواترو خبرو څخه پر دوی باندی دغه خبری ښی څرګندی (ښکاره) شوی دی چه مونږ پخوانیو ظالمانو ته څنګه سختی سزاوی ورکړی دی؟ او مونږ د پخوانیو امتونو دغه قصی په سماویه ؤ کتابونو کښی درج کړی دی. او د انبیاؤ علیهم السلام په ژبو دوی مو خبردار کړی هم دی ـ مګر دوی ته له هغو څخه عبرت هم نه دی حاصل شوی او په همغه سرکشی، عناد او د حق په عداوت کښی پراته او پری ټینګ ولاړ دی ﴿ حِكْمَةٌ بَالِغَةٌ فَمَا تُغْنِ النُّذُرُ ﴾
(٢٧ جزء د القمر آیة (٥) (١) رکوع).

وَقَدْ مَكَرُوا مَكْرَهُمْ وَعِندَ اللَّهِ مَكْرُهُمْ وَإِن كَانَ مَكْرُهُمْ لِتَزُولَ مِنْهُ الْجِبَالُ ﴿٤٦﴾

او په تحقیق سره کوشش د مکر او فریب وکړ دوی د مکر او فریب خپل

حال دا چه الله سره ده (جزاء د) مکر د دوی، او نه ؤ مکر (فریب) د دوی (داسی لوی) چه له ځایه به بیرته شی له دغه مکره غرونه (له خپله ځایه).

**تفسیر:** یعنی ګردو (تولو) پخوانیو او وروستنیو ظالمانو خپل مکرونه او فریبونه چلولی دی او د انبیاؤ په مقابل کښی د حق د مغلوبولو او لری کولو هیڅ یو تدبیر او سازش دوی نه دی پریښی ـ دوی ګرد (تول) تدابیر، مکر فریب او چال د الله تعالیٰ په نزد یو په یو ښکاره او محفوظ دی او خامخا دوی ته د هغو سزا ورکوی.

( ﴿ وَإِن كَانَ مَكْرُهُمْ لِتَزُولَ مِنْهُ الْجِبَالُ ﴾ او نه دی مکر د دوی داسی لوی چه له ځایه به بیرته شی له دغه مکره غرونه له خپله ځایه)، یعنی دوی ډیر زیات مکرونه او فریبونه کړی دی، او د هغو نتائج ئی لیدلی دی ـ مګر د الله تعالیٰ د حفاظت په مقابل کښی هغه ګرد (تول) ناکامه او بی نتیجی پاتی دی آیا دغه مکر د دوی به غرونه له خپلو ځایونو څخه وخوځولی شی؟ یعنی انبیاء علیهم السلام او حقه ؤ شرائع چه له غرونو څخه زیات مضبوط او مستقیم دی، د دوی د دغو مکاریو او فریبونو څخه به لږ څه متأثر او متضرر شی؟ حاشاوکلا ـ د دی تفسیر سره موافق به

﴿ وَإِن كَانَ مَكْرُهُمْ ﴾ کښی «ان» به «نافیه» وی او د آیت مضمون د

﴿ وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا إِنَّكَ لَن تَخْرِقَ الْأَرْضَ وَلَن تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُولًا ﴾ (١٥ جزء د بنی اسرائیل ٣٧ اية (٤) رکوع) سره به مشابه وی. ځینو مفسرینو «ان» شرطیه او «واو» وصلیه اخیستی او د دی آیت مطلب ئی داسی بیان کړی دی چه دوی ډیر لوی لوی داسی مکرونه او فریبونه وکړل چه د الله تعالیٰ د حفاظت په مقابل کښی هیڅ ثابت شو ـ اګر که د دوی دغه مکرونه او فریبونه فی حد ذاته داسی غټ او زبردست ؤ چه یو ځلی غرونه به ئی هم له خپل ځایه بیرته کولی شوی او له خپله ځایه ئی لړولی شوی.

فَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ مُخْلِفَ وَعْدِهِ رُسُلَهُ

نو مه کوه ګمان په الله باندی د خلاف کوونکی د وعدی خپلی رسولانو خپلو سره،

**تفسیر:** یعنی هغه وعده چه په ﴿ إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا ﴾ او په ﴿ كَتَبَ اللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِي ﴾ او نورو آیتونو کښی کړی شوی ده.

إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ ذُو انتِقَامٍ ﴿٤٧﴾

بيشكه الله ډير غالب ښه قوى دى (په انفاذ د احكامو) څيښتن (خاوند) د انتقام(سخت عذاب له اعداء الله)

**تفسير:** نه مجرم له ده څخه خلاصيدى او نه چيرى ترى تښتيدلى شي او نه دى پخپله داسى مجرمان هم داسى بى له سزا وركولو څخه خوشى پريږدى.

يَوْمَ تُبَدَّلُ الْأَرْضُ غَيْرَ الْأَرْضِ وَالسَّمٰوٰتُ وَبَرَزُوْا لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ ﴿۴۸﴾

(ياد كړه) هغه ورځ چه بدل به كړه شي (په كښى) دغه ځمكه په بلى ځمكى سره او آسمانونه به هم بدل كړى شي په نورو آسمانونو سره) او را وبه وځى (تول خلق له قبورو او په ښكاره ميدان به ودريږى خاص) الله ته چه يو ښه غالب ډير قوى دى.

**تفسير:** په قيامت كښى دغه اسمان او ځمكه په دغه موجوده هيئت سره به باقى نه پاتى كيږى يا خو د دغو ذوات به بدل كړى شى ـ يا به يواځى په صفاتو كښى تغير كيږى ـ او له ځينو رواياتو څخه معلوميږى چه ښائى څو كرتى دغه تبديل او تغير ته به وار ورسيږى والله اعلم د «وبرزوا لله جميعاً د مخامخ دريدلو» مطلب به ﴿ فَقَالَ الضُّعَفٰٓؤُا ﴾ الآية ـ په ذيل كښى پخوا ليكلى شوى دى هلته دى ولوست شى!.

وَتَرَى الْمُجْرِمِيْنَ يَوْمَئِذٍ مُّقَرَّنِيْنَ فِى الْأَصْفَادِ ﴿۴۹﴾

او وينى به ته دغه گنهگاران (كافران) په دغه ورځ كښى چه تړلى شوى به وى يو له بل سره په ځولنو (غاړكيو او ځنځيرونو) كښى،

**تفسير:** يعنى د يوه يوه نوعيت څو څو تنه مجرمان به په يوه ځنځير كښى تړلى كيږى كما قال الله تعالىٰ ﴿ اُحْشُرُوا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا وَاَزْوَاجَهُمْ وَمَا كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ ﴾ (۲۳ جزء د الصافات (۲۲) آية (۲) ركوع) ﴿ وَاِذَا النُّفُوْسُ زُوِّجَتْ ﴾ ۳۰ جزء د التكوير ۷ آية).

سَرَابِيْلُهُمْ مِّنْ قَطِرَانٍ

قميصونه د دوى له نانزړو به وى

**تفسیر:** چه پکښې اور په ډیره جلتي او سرعت اثر کوي او سخت بدبوئی(دوزی) تری خیژی، بیا ځرنگه چه د جهنم اور دی همغسی د هغه ځای نانزرو یا ځرنه (گوگر) هم وگنئ.

وَتَغۡشٰى وُجُوۡهَهُمُ النَّارُۙ ۝۵۰

او پټ به کړی مخونه د دوی اور (د دوزخ)

**تفسیر:** مخ چه د حواسو او مشاعرو ځای، او د انسان په ظاهری اعضاؤ کښې له گرد (تول) ؤ ښخه اشرف عضو دی، نو ځکه ئی په خصوصیت سره ذکر کړ، لکه چه په بل ځای کښې په ﴿ تَطَّلِعُ عَلَى الۡاَفۡـِٕدَةِ ﴾ کښې د قلب ئی فرمایلی دی.

لِيَجۡزِىَ اللّٰهُ كُلَّ نَفۡسٍ مَّا كَسَبَتۡ ‌ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيۡعُ الۡحِسَابِ ۝۵۱

(راوځی له قبورو دپاره د دی) چه جزاء ورکړی الله هر یوه نفس ته (جزاء) د هغه عمل چه کړی وی بیشکه الله ډیر ژر دی حساب (د ده)

**تفسیر:** یعنی د هغی خبری په مخ راتلل بالکل یقینی دی، او هغه له سره لری مه گڼئ کما قال الله تعالیٰ ﴿ اِقۡتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمۡ وَهُمۡ فِىۡ غَفۡلَةٍ مُّعۡرِضُوۡنَ ﴾ (۱۷ جزء د الانبیاء (۱) آیة (۱) رکوع) یا ئی دا مطلب کله چه حساب اخیست کیږی، نو بیا په هغه کښې هیڅ ځنډ (ایسارتیا) نه کیږی د گردو (تولو) اولینو او آخرینو، پیریانو او انسانانو د ذری ذری عمل حساب کتاب به ډیر ژر کیږی ـ ځکه چه نه پر الله باندی کوم شی مخفی دی ـ او نه دی یو شان (شی) له بل شان (شی) ښخه مشغولولی شی ﴿ مَا خَلۡقُكُمۡ وَلَا بَعۡثُكُمۡ اِلَّا كَنَفۡسٍ وَّاحِدَةٍ ﴾ (۲۱ جزء د لقمٰن ۲۸ آیة (۳) رکوع).

هٰذَا بَلٰغٌ لِّلنَّاسِ وَلِيُنۡذَرُوۡا بِهٖ وَلِيَعۡلَمُوۡۤا اَنَّمَا هُوَ اِلٰـهٌ وَّاحِدٌ وَّلِيَذَّكَّرَ اُولُوا الۡاَلۡبَابِ ۝۵۲

دغه قران خبر رسونه ده (کافي ده له جانبه د الله) دپاره د خلقو (چه پند پری واخلی) او لپاره د دی چه وویرولی شی (خلق) په (وعظ) د ده سره او چه وپوهیږی دوی په دی باندی چه بیشکه خبره هم دا ده چه الله معبود

واحد دی (بی شریکه) او چه پند واخلی (تری) خاوندان د عقلونو خالصو.

**تفسیر:** یعنی د غفلت له خوبه ویښ شئ او له الله څخه وویریږئ او د ده په آیتونو کښې غور وکړئ چه له هغه څخه د الله تعالیٰ په وحدانیت باندی یقین حاصل شی او له عقل او فکر څخه کار واخلئ او پر نصائحو ئې عمل وکړئ

**(تمت سورة ابراهیم علیه السلام ولله الحمد والمنه)**

سورة «الحجر» مکیة الاآیة (۸۷) فمدنیة وهی تسع و تسعون آیة)
وست رکوعات رقمها (۱۵) تسلسلهاحسب النزول (٥٤) نزلت بعد سورة یوسف علیه السلام
د «حجر» سورت مکی دی پرته (علاوه) له (۸۷) آیت څخه چه مدنی دی
(۹۹) آیت او (٦) رکوع لری په تلاوت کښی (۱۵) او په نزول کښی(٥٤) سورت دی وروسته د یوسف علیه السلام له سورت څخه نازل شوی دی)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع) په نامه د الله چه خورا (ډیر) مهربان ډیر رحم والا دی.

الٓرٰ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ وَقُرْاٰنٍ مُّبِيْنٍ ①

دغه چه وروسته راځی آیاتونه د کتاب دی او د قرآن چه واضح (بیانوونکی د حق او د باطل) دی

**تفسیر:** یعنی دا د هغه جامع او عظیم الشان کتاب ایتونه دی چه د هغه په مقابل کښی به کوم بل کتاب، د کتاب ویلو وړ (لائق) او مستحق نه دی . او آیتونه دی د هغه قرآن کریم چه واضح بیانونکی د حق او د باطل دی او اصول ئی نهایت صاف ـ دلائل ئی روښان ـ احکام ئی معقول ـ د اعجاز وجوه ئی واضح ـ او بیانات یی عجیب او فیصله کوونکی دی نو وروسته له دی نه هر څه چه بیان کیدونکی دی ښائی چه مخاطبین هغه په پوره توجه سره واوری.

رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ كَانُوا مُسْلِمِينَ ②

دیر ځلي به آرزو (تمنا) کوي هغه کسان چه کافران شوي دي(چه ووینی خپل احوال او د مؤمنانو او جنت او دوزخ) چه کشکي وی دوی مسلمانان

**تفسیر:** که نن منکرینو د قرآن عظیم او د اسلام په شان د الله تعالیٰ د عظیم الشان نعمتونو قدر ونه کړ لیکن داسی یو وقت راتلونکی دی، چه دغه خلق به پر خپلی محرومی ژاړی، او د حسرت لاسونه به سره مښی، او وائی به کاشکی مونږ مسلمان کیدو ـ هغه وقت به کله راځی؟ د دغه آیت په تفسیر کښی مفسرینو سره اختلاف کړی دی. مونږ د (ابن الانباری) له قوله سره موافق هغه عام ایښی دی یعنی په دنیا او آخرت کښی په هغو مواقعو کښی چه د کافرانو د نامرادی او د مسلمانانو د کامیابی مناظر او مظاهر وردمخه شی په هره موقع کښی کفار د خپل پاتی کیدلو او ناکامی لامله (له وجی) د خپل مسلمان کیدلو تمنا کوی، او د اسلام له نعمته د محروم پاتی کیدلو حسرت او واویلا به کوی په دغه سلسله کښی ړومبنی موقع خو د «بدر غزوه» وه چه هلته د مکی معظمی کفارو د مسلمانانو په لوری د ښکاره غلبی او غیبی تائیداتو د لیدلو څخه پخپلو زړونو کښی ئی داسی محسوس کړ، هغه اسلام چه مهاجرین فقراء او د اوس او خزرج بزګران ئی پر متکبرو او ځانمنمو (خود نمای کونکو) قریشی مشرانو باندی غالب او مظفر کړ- افسوس چه مونږ له دغه دولت څخه محروم یو هم داسی د اسلامی فتوحاتو او ترقیاتو په هر منزل کښی کفار پر خپل تش لاس او حرمان افسوس او حسرت او ندامت باندی متاثر او د ناامیدی د اوښکو بهولو موقع ور ورسیده د انتهائی حسرت او افسوس ځای به هلته وی کله چه پرښتی د دوی د روح قبض کولو دپاره ورمخامخ ودریږی، او د عالم غیب حقائق د دوی تر سترګو لاندی راشی، نو دلته به له ډیره غمه خپلی ګوتی چیچی، او تمنا کوی کاشکی مونږ هم اسلام قبول کړی وی؛ څو نن د دغه بعدالموت له عذابه محفوظ پاتی کیدی شوی له دے نه لویه یأس غورځوونکی منظره به هغه وی چه د طبرانی رحمة الله علیه په حدیث کښی راغلی دی چه نبی کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم فرمایلی دی چه «ځما د امت ډیر سری د خپلو ګناهونو له سببه په جهنم کښی لویږی او تر هغه پوری چه د الله تعالیٰ اراده وی، هلته به اوسیږی نو بیا به مشرکین دوی ته طعنی ورکوی چه ستاسی ایمان او توحید تاسی ته څه فائده دروړسوله؟ چه تاسی هم نن ځمونږ په شان په دوزخ کښی پراته یئ! نو د دی پیغور له سببه پاک الله به هیڅ یو موحد په دوزخ کښی نه پریږدی» د دی فرمایلو څخه وروسته نبی کریم دغه آیت ولوست «ربما یود الذین کفروا لو کانو مسلمین» ګواکی دغه به آخری موقع وی چه کفار به د خپل د مسلمانیدلو تمنا کوی.

ذَرۡهُمۡ يَأۡكُلُواْ وَيَتَمَتَّعُواْ وَيُلۡهِهِمُ ٱلۡأَمَلُۖ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ③

پرېږده دوی (ای محمده) چه خوري او گټې فائدې اخلي او مشغول کړي دوی اوږد امید (د ژوندون له ایمان راوړلو) نو ژر ده چه پوه به شي (په عاقبت خپل.

**تفسیر:** یعنی کله چه هیڅ یو نصیحت پر دوی مؤثر او کارگر نشو، نو تاسی زیاد له دے نه د دوی په فکر کښې مه لوېږئ!، بلکه څو ورځې ئې هم داسې خوشې کړئ! چه د بهائمو (چارپایو) په شان وخوري وڅښي، او په زړه پوري مزې وکړي، او خوندور شي، او د مستقبل په نسبت ښه لوی لوی امیدونه وتړي عنقریب به داسې وقت راشي چه دغه گرد (ټول) حقائق به هلته څرگند شي او د پخوانیو او وروستنیو گرد (ټول) خوړلي او څښلي به له دوی څخه راوځي لکه چه څه قدر حقیقت ئې په دنیا کښې د مجاهدینو په لاس ورښکاره شو او پوره تکمیل به ئې په آخرت کښې کېږي. د «ذرهم» امر د اهانت لپاره دی یعنی هیله (امید) او طمعه پرې کړه له دوی نه او هم دی ته ئې ایله (خوشې) کړه چه لکه بهائمو (چارپایو) غونډې خوري او څښي او گرځي

وَمَآ أَهۡلَكۡنَا مِن قَرۡيَةٍ إِلَّا وَلَهَا كِتَابٞ مَّعۡلُومٞ ④

او نه دی هلاک کړي مونږ له (اهله د) هیڅ کلي مگر خو دپاره (د هلاک) د هغه به یو وقت معلوم وو (لیکلی په لوح محفوظ کښې).

**تفسیر:** یعنی هومره کلي ښارونه او اقوام چه پخوا له دې نه هلاک کړې شوي دي د الله تعالیٰ په علم کښې د هر یوه د هلاکت یو معین وقت ؤ چه په هغه کښې نه هیره او نه تیرواته او نه غفلت او نه د الله تعالیٰ د وعدې تأخیر او تعطیل امکان ؤ هر کله چه د کوم قوم میعاد پوره او د دوی د تعذیب وقت ور ورسید یو ځلې گرد (ټول) سره سپیره او تباه شوي دي. موجوده کفار دې هم په دغه امهال او تاخیر باندې نه مغروریږي کله چه وقت راشي دوی هم د الله تعالیٰ د سزاء څخه نشي خلاصیدی دغه تاخیر چه کېږي په دغه کښې د الله تعالیٰ لوی لوی حکمتونه دي، مثلاً له دوی څخه د ځینو د خپلو یا د دوی د اولادې ایمان راوړل مقدر وي، او د فوري عذاب په صورت کښې به د هغه د وقوع هیڅ یو صورت نه وي.

مَّا تَسۡبِقُ مِنۡ أُمَّةٍ أَجَلَهَا وَمَا يَسۡتَـٔۡخِرُونَ ⑤

نه ړومبی کېږي هیڅ امت له وقته (د هلاک) خپل او نه (ترې) وروستي کېږي.

**تفسير:** يعني د مهلکه ؤ اممو په منځ کښې څه تخصيص نشته، بلکه د هر قوم د عروج او زوال يا د موت او حيات دپاره کوم ميعاد او نيته چه مقرره ده، هغه دې يوی ربی (ساعت) دپاره هم وړاندی او وروسته کيدی نشي (بلکه په هغه وقت کښې هرومرو (خامخا) هلاک کيږی نه تری ړومبی او نه وروستی کيدی شي).

وَقَالُوا يَا أَيُّهَا الَّذِي نُزِّلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ إِنَّكَ لَمَجْنُونٌ ﴿٦﴾

او ويلی (دغو کفارو محمد ته) ای هغه سړيه چه نازل کړی شوی دی پر هغه باندی ذکر (قرآن پند په زعم د منکرينو) بيشکه ته خامخا ليونی ئی.

**تفسير:** د مکی معظمی مشرکين به دغه الفاظ محض د استهزاء او استخفاف په طريقه سره ويل يعني «ته له گردو (تولو) څخه ور د مخه شوی ئی، او د پاک الله له درباره دی قرآن راوړی دی، او نورو گردو (تولو) ته احمق او جاهل وايی، بلکه گردی (تولی) دنيا ته د ويری پيغام ورکوی او له هغه سره داسی دعوی هم کوی چه بالاخر به زه غالب يم او يو وقت به داسی راشي چه منکرين به له حسرته او ندامته داسی وائی کاشکی چه مونږ هم مسلمانان شوی وی! دا د کوم عقل او هوش خبری دی، دا خو ښکاره ليونتوب دی او دغه شي چه ته ئی لولی او اوروی ئی د ليونيانو له چتی (بيکاره) او چپوله (گډو وډو) له وينا څخه پرته (علاوه) بل شي نه دی (العياذ بالله)

لَوْ مَا تَأْتِينَا بِالْمَلَائِكَةِ إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ ﴿٧﴾

ولی نه راولی مونږ ته ملائکی (دپاره د تعذيب او تکذيب څمونږ په تصديق د تا) که ئی ته له صادقانو(رښتينو په دغه دعوی کښې).

**تفسير:** يعني که د احديت په دربار کښې تاته دومره قرب حاصل دی او له گردو (تولو) خلقو څخه د الله تعالیٰ له لوری هم دا ته د رسالت د منصب دپاره غوره شوی ئی؛ نو د پرښتو خدائی فوج ولی ستاسی سره نه دی راغلی؟ چه په ښکاره دول (طريقه) سره ئی ستاسی تصديق کاوه، او پر مونږ باندی به ئی هم ستاسی خبری منلی وی، او د نه منلو په صورت کښې به ئی مونږ ته سزا راکوله.

مَا نُنَزِّلُ الْمَلَائِكَةَ إِلَّا بِالْحَقِّ وَمَا كَانُوا إِذًا مُّنظَرِينَ ﴿٨﴾

(نو په جواب کښې الله فرمائی) چه نه نازلوو مونږ ملائکې مگر په حق (حکمت یا عذاب) سره او نه به وی په دغه وقت کښې مهلت ورکړی شوی (یعني د ملائکو د نزول په وقت کښې به پر دوی هم فی الحال عذاب نازلیږی.

**تفسیر:** یعني د قبول کوونکو دپاره اوس ښائسته ډیری نښې شته ـ پاتې شو هغه کسان چه د دوی اراده داسې نه ده چه دغه خبره ومني نو هغوی به ئې د پرښتو د راتگ په وقت کښې هم نه مني نو بیا د هغو په نزول څه فائده مرتبیږی؟ الله تعالیٰ پرښتې سم له خپله حکمته سره د کوم صحیح غرض دپاره لیږی هم داسې خوشې چتې (بیکاره) د هغوی تماشا ورښوول خلقو ته مقصود نه وی عادت الله عموماً داسې جریان لری ـ کله چه د کوم قوم بغاوت او سرکښې له خپله حده تیرې کوی ـ او د تفهیم او هدایت گرد (ټول) مراحل خاتمه مومی، نو د پرښتو فوج د دوی د هلاک دپاره ورلیږی ـ نو بیا قطعاً هغه قوم ته مهلت نه ورکاوه کیږی ـ که سم ستاسې له غوښتنې سره پرښتې ولیږلې شی نو له هغه څخه یواځې هم دغه مقصد کیدی شی چه تاسې ښائی بلا تاخیر هلاک کړی شئ چه هغه فی الحال (د الله تعالیٰ) له حکمته سره موافق نه دی. ځکه چه تر اوسه پوری ئې وقت نه دی راغلی ـ دغه خو هغه آخری صورت دی چه نور گرد (ټول) منازل سره طی کیږی. او د گردو (ټولو) چارو تر ختمیدلو څخه وروسته به ظهور رسیږی.

إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ⑨

بیشکه مونږ پخپله نازل کړی دی ذکر (پند قرآن) او بیشکه چه مونږ د ده خامخا ساتونکی یو (له تزئیده تنقیصه او نورو).

**تفسیر:** یعني ستاسې استهزاء او تعنت ـ او د قرآن راوړونکی په لوری د جنون نسبت کول پر قرآن عظیم او د قرآن کریم پر حامل قطعاً هیڅ اثر نشی غورځولی ـ په یاد ئې ولرئ چه د دغه قرآن شریف نازلوونکی مونږ یو او مونږ د دغه قرآن مبارک د هر قسم حفاظت او ساتنې ذمه پر خپله غاړه د قدرت اخیستې ده ـ په هغه شان او هیت سره چه هغه نازل شوی دی ـ او بې له یوه ادنیٰ تغییر ـ تبدیل ـ تحریف او د فتحې ـ کسرې ضمې او نورو د اړولو او راړولو څخه گرد (ټول) عالم ته به کمال د صحت رسیدلی دی ـ وروسته له دی نه هم رسیږی ـ د ژبې د فصاحت او بلاغت او د علم او حکمت دقائق هر څومره چه پر مخ تگ او ترقی وکړی ـ خو د پاک قرآن په صوری او معنوی اعجازو کښې به له سره ضعف او انحطاط نه محسوس کیږی، ډیر قومونه او سلطنتونه به د قرآن په غږ کښېنولو یا ورکولو کښې ډیر زیار (کوشش) وکړی ـ لیکن د هغه یو ټکی به هم ترې نشی لری کولی ـ د عظیم الشان قرآن په نسبت د الله تعالیٰ دغه عظیم

الشانه وعده په داسي درستي او صفائي او حيرت غورځوونکي طريقي سره تکميله او پوره شوی ده او پوره کيږي به - چه د هغه د ليدلو څخه د متعصبو او مغرورو مخالفانو سرونه ښکته شوی دی.

«ميور» وائی «تر هغه ځايه پوری چه مونږ معلومات لرو په ګرده (تولـه) دنيا کښی هم داسي يو کتاب نشته چه د قرآن پشان په دولسو سوو کلونو کښی له هر قسمه تحريفه پاک او سپيڅلی پاتی وی».

يو بل اروپائی محقق ليکي «مونږ په هغه يقين سره قرآن بعينه د محمد صلى الله عليه وسلم د خولی وتلی الفاظ ګڼو - لکه چه مسلمانان ئی د خدای کلام ګڼی -» واقعات دا راښيی چه پر هره زمانه کښی د علماؤ داسي يو غفير جم موجود وو (چه د هغوی تعداد الله تعالىٰ ته معلوم دی) او هغوی د دغه لوی قرآن د علومو او مطالبو او غير منقضی (نه ختم کيدونکی) عجائبو حفاظت کړی دی. او کاتبانو د رسم الخط - او قاريانو د اداء د طرز - او حافظانو د ده د الفاظو او عباراتو داسي حفاظت کړی دی چه د نزول له وقته تر اوسه پوری د هغه يوه فتحه يا کسره يا ضمه يا نور هم نه دی تبديل شوی ځينو خدای ښښليو د قرآن رکوع شميرلی دی. ځينو د هغه آياتونه حساب کړی دی - ځينو د هغه د حروفو تعداد راښولی دی - حتىٰ چه ځينو د هغه يو يو اعراب او يو يو تکی هم شميرلی دی پاک الله دغه مترجم عاصی «برهان الدين کشککی» ته داسي يو توفيق وربه برخه کړی دی چه د تول قرآن کريم په معنوی فهرس باندی هم مشرف شوی دی. چه مثلاً ځما د دغه تصنيف له تشرفه هر قاری کولی شي چه ژر تر ژره هر راز (قسم) قرآنی ارشاد او احکام پيدا کړی مثلاً د الله جل وعلا يا د محمد صلى الله عليه وسلم - آدم - نوح - ابراهيم - لوط - صالح - هود - اسحاق - اسماعيل - يعقوب - يوسف - موسىٰ - داود - سليمان عليهم السلام او د توحيد - لمونځ - زکوٰة - روژه حج بيع - شری - نکاح - طلاق - يا د نورو دينی يا دنيوی چارو په نسبت د قرآن کريم په کومو کومو آيتونو او سورتونو کښی تذکره شوی دی د رسول الله صلى الله عليه وسلم له زمانی څخه تر نن ورځی پوری هيڅ يوه شيبه او ګړی به داسي نه وی تيره شوی چه په هغه کښی د زرګونو او لکونو په شمير د پاک قرآن حفاظ نه وی فکر وکړئ چه علی الاکثر ځمونږ د مسلمانانو يو اته - يا لس کلن ووړکی پوری هم اقلا د پاک قرآن څو څو سورتونه چه علی الاکثر د متشابهاتو څخه ډک وی او د دوی دپاره يوه اجنبی ژبه ده داسي په ياد لری چه په ښه ډول (طريقه) سره ئی لولی او آوروی ئی حال دا چه هغوی پخپله ژبه کښی په دغه عمر او منګ کښی داسي شيان نشی يادولی، او نه ئی داسي لوستلی شی که بيا په کوم مجلس کسی د کوم وجيه عالم او حافظ څخه د قرآن کوم حرف پاتی شی يا په اعرابو کښی ئی څه التباس تری واقع شی نو تر يوه ووړکی پوری هم ده ته فتح ورکوی، او پری انتقاد نيولی شی حتٰی چه له څلورو خواؤ پری د تصحيح غږونه کيږی او امکان نه لری چه هغه لوستونکی همغسی پخپل سر او خوښی پريږدی چه قرآن غلط ولولی. د لوی قرآن د حفظ په متعلق هم دغه اهتمام او اعتناء (توجه) د نبوت په عهد کښی ګردو (تولو) خلقو

ليدلى او د هم دغه حفاظت په لورى ﴿ وَإِنَّا لَهُ لَحَٰفِظُونَ ﴾ اشاره فرمائى او د هغه وقت منكرانو ته توجه وركوى.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ فِى شِيَعِ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٠﴾ وَمَا يَأْتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿١١﴾

او خامخا په تحقيق ليږلي ؤ مونږ (رسولان) پخوا له تا په توليو د پخوانيو (خلقو) كښې او نه به راته هغوى ته هيڅ رسول مګر حال دا چه وو به دوى (د كبره او عناده) چه په هغه پورى به ئې مسخرى كولې (لكه چه كوى ئې كفار په تا پورى).

**تفسير:** په دغه مبارک آيت كښې څمونږ پاک رسول الله صلى الله عليه وعلىٰ آله وصحبه وسلم ته تسلى وركړى شوى ده چه تاسى د دوى له دغه تكذيب او استهزاء څخه مه خپه كيږئ! دغه كومه نوى پيښه او خبره نه ده د منكرانو عادت تل هم داسى وه كله چه كوم نبى عليه السلام دوى ته راته ـ نو په هغه به ئې مسخرى او توكى كولې كله به ئې ورته ليونى ويل ـ كله به ئې خپه كاوه او چتى (بيكاره) اوردى او ساره غوښتنى او مطالبى به ئې ترى كولى. فرعون د موسىٰ عليه السلام په نسبت ويلى ؤ ﴿ إِنَّ رَسُولَكُمُ ٱلَّذِىٓ أُرْسِلَ إِلَيْكُمْ لَمَجْنُونٌ ﴾ (١٩ جزء د الشعراء (٢٧) آية (٢) ركوع) او هم دغه د پرښتو د فوجونو راوستلو غوښتنه كرى وه ـ لكه چه قريشو څمونږ له رسول څخه كوله ﴿ فَلَوْلَآ أُلْقِىَ عَلَيْهِ أَسْوِرَةٌ مِّن ذَهَبٍ أَوْ جَآءَ مَعَهُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ مُقْتَرِنِينَ ﴾ (٢٥ جزء د الزخرف (٥٣) آيت ٥ ركوع).

كَذَٰلِكَ نَسْلُكُهُۥ فِى قُلُوبِ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿١٢﴾

هم داسى (لكه چه ننه ايستلى ؤ مونږ تمسخر د انبياؤ په زړونو د پخوانيو كفارو كښې) ننه به باسو دغه (تمسخر) په زړونو د مجرمينو (كفارو د زمانى ستاسى كښې هم).

**تفسير:** يعنى هغه خلق چه د جرائمو له ارتكابه مخ نه اړوى ـ مونږ د دوى په زړونو كښې هم داسى د تكذيب او استهزاء عادت تينګ كړى دى ـ لكه چه د دوى زړونو ته د غوږونو له لياره د الله تعالىٰ وحى ورځى، نو له هغه سره يو ځاى تكذيب هم ورلوېږى.

لَا يُؤْمِنُونَ بِهٖ وَقَدْ خَلَتْ سُنَّةُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿١٣﴾

چه ایمان نه راوړی په دغه (نبی او قرآن) او په تحقیق تیره شوی ده طریقه (عادت د الله په اهلاک) د پخوانیو (کفارو چه تکذیب به ئی کاوه د رسولانو خپلو).

**تفسیر:** یعنی تل هم داسی دوی توکی او مسخری کوی، او پر دغه روږدی او عادی شوی دی. او سنة الله پر هم دغه جاری دی، چه تل متمردین هلاک او رسوا کیږی ـ او بالاخر د حق خبری ته غلبه او بری ور په برخه کوی. (کله چه ډیره مبالغه کوله کفارو په نازلیدلو د ملائکو کښی لپاره د شاهدی د نبوت د حضرت ختمی مرتبت نو پاک الله داسی فرمائی چه)

وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَابًا مِّنَ السَّمَآءِ فَظَلُّوْا فِيْهِ يَعْرُجُوْنَ ﴿١٤﴾ لَقَالُوْٓا اِنَّمَا سُكِّرَتْ اَبْصَارُنَا بَلْ نَحْنُ قَوْمٌ مَّسْحُوْرُوْنَ ﴿١٥﴾

او که پرانستلی وی مونږ پر دغو (غوښتونکو د معجزو په مقتضیٰ خپله (کومه دروازه له آسمانه پس تل ګرځیدلی وی دوی به هغه (دروازه) کښی چه تل ختل (آسمان ته) نو خامخا به ئی ویلی ؤ (له ډیره عناده) بیشکه هم دا خبره ده چه تړلی شوی دی سترګی ځمونږ بلکه مونږ یو قوم یو چه جادو راباندی کړی دوی دی

**تفسیر:** یعنی د پرښتو نزول خو دومره عجیب نه دی، که مونږ د آسمان ورونه خلاص کړو، او پرښتی پری وخیژوو، او ګرده (توله) ورځ دوی په هم دی ختلو کښی لګیا اوسی، خو بیا هم دغه ضد کوونکی او معاند خلق ئی نه تسلیموی، او په دغه وقت کښی به داسی وائی چه پر مونږ باندی نظر بندی یا جادو شوی دی ـ ښائی په ابتداء کښی ئی نظر بندی وګنی ـ او بیا ئی لوی جادو وبولی

وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِى السَّمَآءِ بُرُوْجًا

او خامخا په تحقیق پیدا کړی دی مونږ په آسمان کښی (دولس) برجونه

**تفسیر:** ځینی له بروجو څخه دلته لوی لوی ستوری مرادوی. ځینی تری د شمس او قمر منازل

مرادوی ځینی وائی چه بروج هغه آسمانی کلاوی (قلعی) دی چه په هغو کښی د پرښتو دلی پیری ورکوی

وَّزَيَّنّٰهَا لِلنّٰظِرِيْنَ ﴿١٦﴾

او ښائسته کړی دی مونږ دغه (آسمان په ستوریو سره) دپاره د کتونکیو (چه عبرت تری واخلی)

**تفسیر:** یعنی مونږ پخپل بالغه حکمت او قاهره قدرت آسمان ته په ستوریو سره زینت ورکړی دی د شپی چه وریځی او دوړی او غبار او دمه نه وی، نو د ستوریو د دغو بیشمارو واښکیو له کتلو څخه انسان په څه اندازه خوښ او محظوظیږی او د آسمان د ننداری کوونکی په نظر څومره ښائسته او له عظمته ډک معلومیږی، او غور او فکر کوونکی ته په هغه کښی د الله تعالیٰ د کامل صنعت، لوی حکمت مطلقه وحدانیت څومره نښی، دلائل موندلی کیږی مطلب ئی دا دی چه له آسمانه د پرښتو راښکته کول، یا د هغوی پر آسمان باندی د خیژولو هیڅ ضرورت نشته که د دوی زړه د اطاعت او قبول په لوری مائل وی، نو په آسمان او ځمکه کښی د قدرت ډیری نښی او دلائل شته چه د هغو د لیدلو څخه پوه او عاقل سړی د توحید سبق په ډیره آسانی حاصلولی شی دوی له داسی ـ روښانو مثالونو او ښکاره ؤ نښو او دلائلو د لیدلو څخه څه معرفت حاصل کړی دی؟ چه په مستقبل کښی د دوی په نسبت څه توقع وکړی شی.

وَحَفِظْنٰهَا مِنْ كُلِّ شَيْطٰنٍ رَّجِيْمٍ ﴿١٧﴾
اِلَّا مَنِ اسْتَرَقَ السَّمْعَ فَاَتْبَعَهٗ شِهَابٌ مُّبِيْنٌ ﴿١٨﴾

او ساتلی دی مونږ دغه (آسمان) له هر شیطانه ویشتلی شوی (په شغلو سره) لیکن هغه (شیطان ختونکی آسمان ته) چه غلا کړی (خبره) اوریدلی شوی (له ملائکو) پس وریسی شی ستوری ښکاره (روښانه نو وئی سوځوی پخپلی لمبی سره).

**تفسیر:** یعنی په آسمانونو کښی د شیاطینو هیڅ عمل او مداخله نه چلیږی، بلکه د محمد صلی الله علیه وسلم د بعثت راهیسی د دوی ګزر او تیریده هم آسمان ته ممنوع دی. اوس د دوی انتهائی کوښښ په دی کښی دی چه یوه شیطانی سلسله قائمه کړی او آسمان ته ځان نژدی ورسوی او د ملکوتو له عالمه سره نژدی پر غیبیه ؤ اخباراتو اطلاعات حاصل کړی، دلته هم د

پرښتو پيرې درولې شوې دي ـ چه کله شياطين داسې کوښښ وکړي نو له پاسه د اور په لمبو وويشتلې شي، له قرآني نصوصو او د نبوي له احاديثو څخه معلوميږي چه د تکويني امورو په نسبت کله چه په آسمانونو کښې د کومې فيصلې اعلان کيږي او پاک الله په دغه سلسله کښې پرښتو ته وحي ليږي، نو هغه اعلان په يو خاص کيفيت له پاسه تر ښکته پوري درجه په درجه راځي، تر څو چه د دنيا آسمان ته ورسيږي. د«بخاري شريف» د يوه روايته سره مطابق په «عنان» وريځو کښې پرښتې د هغه مذاکره کوي، او شياطين زيار (کوشش) کوي چه د دغو معاملاتو په متعلق غيبي معلومات حاصل کړي.

همغسې چه نن ورځ کوم پيغام د بيسيمو (وائرلس) تليګرافو په ذريعه ليږلې کيږي، او له هغه څخه خلق په لياره کښې د جذب کولو او اخيستلو تدبير کوي، نو ناڅاپه له پاسه بم (شهاب ثاقب) پرې لويږي ـ او د دغو غيبي پيغاماتو غلا کوونکي مجروح يا هلاکوي ـ په دغه کش او کوک (مندو رامندو) کښې چه په کومه يوه يا نيمه خبره باندې شيطانان پوهه حاصلوي نو دوی د هلاکيدلو څخه د مخه په ډير عجلت او تلوار سره ئې نورو شياطينو ته وررسوي او هغه ئې خپلو نورو انساني دوستانو ته د وررسولو کوښښ کوي، کاهنان د هم دغه نيمګړې او ناتمامې خبرې څخه په سلهاؤ دروغ له خپله ځانه جوړوي او په عوامو کښې ئې د غيبي اخبارو په نامه خوروي. کله چه يوه نيمه خبره ئې رښتيا وځي، نو د دوی معتقدان هغه د دوی د رښتينې په ثبوت کښې ور وړاندې کوي، او له هغه سلهاؤ خبرو څخه چه دروغ ثابتيږي اغماض او تغافل کوي.

**(١). تنبيه:** قرآن او حديث د دغو واقعاتو په بيانولو سره تنبيه ورکړې ده چه له ادنیٰ ځنې ادنیٰ، او له وړوکې څخه وړوکې د صداقت او رښتيا سرچينه هم د ملکوتو په همغه عالم کښې ده . د شياطين الجن والانس په خزانو کښې پرته (علاوه) له کذبه او افتراء بل هيڅ څيز نشته ـ او هم دا ښکاروي چه آسماني انتظامات دومره مکمل دي چه هيڅ يو شيطان د دې خبرې مجال او توان نه لري چه هلته قدم کيښودې شي ـ يا سره له انتهائي جد او جهد د هغه ځاى پر انتظاماتو او فيصلو او بروجو کوم معتدبه لاس او غلبه پيدا کړي. پاتې شوه هغه يوه نيمه جمله چه دوی ئې د دې لوري او د هغه لوري له پرښتو څخه آوري، او بيا له هغه ځايه ئې په مندو سره تښتوي نو د دې په نسبت د الله تعالیٰ اراده پر دغه نه ده تللې چه هغه قطعاً بنده کړې شي او که د الله تعالیٰ اراده پر دې باندې تللې وي، نو هغه به ئې هم بندوله، مګر دغه خبره د الله تعالیٰ له حکمته سره موافقه نه وه، د شياطين الجن والانس په نسبت دې عليم او خبير دې چه هغوی له اغواء او اضلال څخه له سره نه اوړي او له دومره طويل مهلت ورکولو او د اغواؤ او اضلالو پر اسبابو او وسائلو باندې د لاس ورکولو څخه د څه نه څه حکمت د وجود څخه هيڅوک نشي انکار کولې هم داسې حکمت دلته هم وګڼئ

**(٢). تنبيه:** شياطين د شهابو په ذريعه هلاکيږي مګر همغسې چه د «جنوبي قطب» کاشفين او د«همالیې» د ډيرې لوړې څوکې صاعدين د خپلو تحقيقاتو او تتبعاتو په لياره کښې مره کيږي

او نور د دوی د دی عاقبت او انجام د لیدلو څخه د هغه کار شا او تعقیب نه پریږدی نو پر هم دغه باندی د شیاطینو هم دغه مسلسل جد او جهد هم قیاس کړئ! دا دی واضح وی چه قرآن او حدیث دغه نه دی راښوولی چه د شهابو وجود تش د هم دی شیاطینو د رجم دپاره دی، ممکن دی چه د هغوی په وجود پوری نور ډیر مصالح هم تړلی وی ـ او حسب الضرورت دغه کار هم تری اخیست کیږی والله تعالیٰ اعلم

وَالْأَرْضَ مَدَدْنٰهَا وَأَلْقَيْنَا فِيهَا رَوَاسِيَ وَأَنْبَتْنَا فِيهَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ مَّوْزُونٍ ﴿١٩﴾ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَايِشَ وَمَنْ لَّسْتُمْ لَهُ بِرٰزِقِينَ ﴿٢٠﴾

او ځمکه غځولی (غوړولی) ده مونږ دغه (ځمکه) او غورځولی دی مونږ په دغه (ځمکه) کښی غرونه (درانه محکم لکه میخونه) او زرغون کړی دی مونږ پکښی له هر شي اندازه کړی شوی څخه. او پیدا کړی مو دی تاسی ته په دغه (ځمکه) کښی (اسباب د) معیشت او هغه شیان چه نه یئ تاسی هغوی ته رزق روزی ورکوونکی (لکه عیال اولاد حیوانات او نور او مونږ ئی رازق یو).

**تفسیر:** یعنی نوکران، چاکران، حیوانات او نور چه له هغو څخه مونږ خپل کار او خدمت آخلو او د هغوی روزی د پاک الله د لطف او مرحمت په ذمه کښی ده.

وَإِنْ مِّنْ شَيْءٍ إِلَّا عِنْدَنَا خَزَآئِنُهُ وَمَا نُنَزِّلُهُ إِلَّا بِقَدَرٍ مَّعْلُومٍ ﴿٢١﴾

او نشته هیڅ څیز مگر په نزد ځمونږ دی خزانی د هغه او نه نازلوو (نه رالیږو) هغه شی مگر په اندازی معلومی سره(نه لږ نه ډیر سم ځمونږ له حکمت او مصلحت سره).

**تفسیر:** یعنی هر هغه څیز په هر مقدار سره چه الله تعالیٰ اراده وفرمائی پیدا کوی ئی، نه څه ربړ (زحمت) او تکلیف وربېښیږی، او نه پکښی ستړی کیږی، له یوه لوری کله چه اراده وفرمائی سم د لاسه هغه شیان موجودیږی. گواکی د گردو (تولو) شیانو خزانه د الله تعالیٰ لامحدوده قدرت دی، چه په هغه سره هر څیز سم له حکمته د یوه معین نظام لاندی په تاکلی (مقرر کړی) اندازی بی له تزئیده (زیاتی) او تنقیصه (کمی) پرله پسی راوځی او راځی.

وَأَرْسَلْنَا الرِّيٰحَ لَوَاقِحَ فَأَنزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَسْقَيْنَاكُمُوهُ وَمَا أَنتُمْ لَهُ بِخَازِنِينَ ﴿٢٢﴾

او رالیږلي دي مونږ بادونه بلاربوونکي (ونو او وریځو لره یا پخپله بلاربه) پس نازله کړې (لیږلې) ده مونږ له آسمان (له وریځو) څخه اوبه نو وڅښولې مونږ تاسي ته دغه اوبه او نه یئ تاسي دغو اوبو لره خزانه کوونکي ساتونکي بلکه مونږ ئي درساتو).

**تفسیر:** یعني اوروونکي هواوې درنې وریځې له اوبو څخه ډکې راولي، چه له هغه ځنې اوبه ورېږي، او په ویالو، چینو او کوهیو او نورو کښې سره تولیږي، او ستاسي په کار درځي ـ که د الله تعالیٰ اراده وي، نو هغه به ئي د څښلو وړ (لائق) نه وي پرېښې، لیکن دا د خپلې مهرباني څومره خوړې او لطیفي اوبه ستاسي د دولسو میاشتو د ضروریاتو دپاره د ځمکې په مساماتو کښې جمع کړې دي؟. ﴿ وَمَا أَنتُمْ لَهُ بِخَازِنِينَ ﴾ او نه یئ تاسي دغو اوبو لره خزانه کوونکي ساتونکي بلکه مونږ ئي درساتو یعني نه د پاسني اوریا(باران) خزاین ستاسي په قبضه کښې دي، او نه د لاندني چیني او کوهي مخازن ستاسي په اختیار کښې دي، کله چه الله تعالیٰ اراده وفرمائي داسي اوریا (باران) ورَوي چه تاسي ئي مخه نشئ نیولی ـ او نه ئي سم له خپلي غوښتني سره وروِلی شئ ـ او که د کوهي او چیني اوبه وچې کړي ـ یا ئي داسي ښکته بوځي چه ستاسي لاس ور ونه رسي، نو تاسي به څرنګه پرې قدرت او لاس حاصل کړئ؟.

وَإِنَّا لَنَحْنُ نُحْيِي وَنُمِيتُ وَنَحْنُ الْوَارِثُونَ ﴿٢٣﴾

او بیشکه مونږ خامخا هم دا مونږ ژوندي کول او هم وژل کوو او هم دا مونږ وارث باقي پاتي کېدونکي یو (پس له فنا د عالمیانو هم).

**تفسیر:** یعني دنیا به فناء کیږي او یو الله تعالیٰ به پخپلو کاملو صفاتو سره باقي پاتي کیږي حضرت شاه صاحب لیکي «هر څوک مري او د هغه ګټلي او اموال د پاک الله د قدرت په لاس کښې پاتي کیږي.»

وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَقْدِمِينَ مِنكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَأْخِرِينَ ﴿٢٤﴾

او خامخا په تحقیق معلوم دی مونږ ته ړومبنی له تاسی او خامخا په تحقیق معلوم دی مونږ ته وروستنی خلق (ستاسی هم).

**تفسیر:** یعنی د پخوانیو او د وروستنیو د هیڅ یوه شخص یا د هغه اعمال ځمونږ له علمی احاطی څخه خارج نه دی، الله تعالیٰ ته له ازله د هر شی د تفصیل علم شته، او سم له هغه سره د دنیا ګردی (تولی) پیښی او واقعات څرګندیږی (ښکاریږی) او سم له هغه سره به په آخرت کښی له ګردو (تولو) مخلوقاتو سره عدل او انصاف کیږی

**تنبیه:** وړاندی تلل والی او بیرته پاتی والی عام دی چه په ولادت کښی وی که په موت کښی وی په اسلام کښی وی که په نیکو کاری کښی وی، د لمانځه په صفوفو کښی وړاندی یا وروسته دریدل هم د نیکو کاری په ذیل کښی راځی.

وَإِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَحْشُرُهُمْ إِنَّهُ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿٢٥﴾

او بیشکه رب ستا هم دی به راتولوی دوی (په محشر کښی دپاره د جزا) بیشکه چه دغه (الله) ښه حکمت والا دی (چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی) ښه علم والا (په تولو احوالو).

**تفسیر:** یعنی هره ذره هم د الله تعالیٰ په علم کښی شته. هر کله چه د ده علم او حکمت مقتضی شی نو ګرد (تول) به په یوه وقت کښی سره تولوی او په دغه کښی هیڅ اشکال نشته ـ د قبر په خاورو او د ځناورانو په ګیدو کښی ـ د سمندرو په ژورو کښی ـ او په فضاء کښی او هوا کښی ـ الغرض په هر ځای کښی هر څیز او د هغه هر جزء چه وی، هغه پخپل محیط علم او کامله قدرت سره تولوی

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ صَلْصَالٍ مِنْ حَمَإٍ مَسْنُونٍ ﴿٢٦﴾

او خامخا په تحقیق پیدا کړی دی مونږ انسان (آدم) له وچی ختی چه کړنګیدی (لکه کودری چه وی) له توری ختی سخا کړی شوی.

**تفسیر:** د آفاقیه ؤ آیتونو او دلائلو څخه وروسته د انفسیه ؤ آیتونو او دلائلو بیان فرمائی چه د هغه په ضمن کښی ښائی دغه تنبیه هم مقصود وی چه د منبع الکمالاتو هغه ذات چه تاسی ئی په داسی یوه عجیبه طریقه سره ړومبی ځلی پیدا کړئ، نو بیا ستاسی پیدا کول او په یوه میدان کښی مو سره راتولول هغه ته څه اشکال لری؟

**تنبیه:** د آدم د پیدا کولو په نسبت دلته ئی دوه الفاظ وفرمایل (١) «صلصال» یعنی هغه کرنگیدونکی خته چه د اور د پخیدلو څخه دغه کیفیت پکښې پیدا کیږی ـ چه هم دغه ئی په بل ځای کښې «کالفخار» فرمایلی دی. (٢) «حمامسنون» یعنی هغه سخا شوی خته چه تری بدبوئی خیژی. داسی خیال کیږی چه ړومبی به ئی له سخا شوی ختی څخه د (آدم) کالبوت تیار کړی وی او بیا به ئی وچ کړی وی، او بیا به ئی داسی پوخ کړی وی چه تری کرنگ ختلو، بیا وروسته له مختلفو تطوراتو دغی درجی ته رسیدلی وی چه انسانی روح پکښې وپوکل شی. په «روح المعانی» کښې د ځینو علماؤ قول نقل شوی چه د هغه الفاظ دا دی

**«کانه سبحانه افرغ الحما فصورمن ذلک تمثال انسان اجوف فیبس حتی اذانقر صوت ثم غیره طورا بعد طور حتی نفخ فیه من روحه فتبارک الله احسن الخالقین»**

حضرت شاه صاحب لیکلی «خاوره ئی په اوبو کښې خوشته کړه ـ او خمیره ئی پورته کړه چه د تنگهار غږ تری پورته شو، هم دغه د انسان بدن شو، او د هغه خاصیات په سختئی او بار پورته کولو کښې پاتی شو؛ هم داسی گرم کړ شو چه پیریانو (د حدت او خفت) خاصیت د ده په پیدایش کښې پاتی وی». راغب اصفهانی رحمة الله علیه د یوه طویل مضمون په ضمن کښې تنبیه کوی چه «حمامسنون» او «طین لازب» او نور الفاظ دا ښکاروی چه خاوره او اوبه ئی سره گډ کړی دی ـ او بیا ئی وچ کړی دی او د «فخار» لفظ دلالت کوی چه تر یوی درجی پوری په اور کښې هم پخه شوی ده ـ هم دغه ناری جزء د بنی آدمو د شیطنت منشأ ده، په هم دغه مناسبت په ٢٧ جزء د الرحمٰن په ٤ آیت اوله رکوع کښې فرمایلی دی

﴿خَلَقَ الْإِنسَانَ مِن صَلْصَالٍ كَالْفَخَّارِ وَخَلَقَ الْجَانَّ مِن مَّارِجٍ مِّن نَّارٍ﴾ د راغب رحمة الله علیه دغه مضمون دیر اوږد او خوږ دی، افسوس چه موږ ئی خلاصه دلته نشو لیکلی.

---

وَالْجَانَّ خَلَقْنَاهُ مِن قَبْلُ مِن نَّارِ السَّمُومِ ﴿٢٧﴾

---

او جان (پلار د پیریانو) پیدا کړی دی موږ هغه پخوا له (انسانه) له اوره بی لوگی څخه.

---

**تفسیر:** یعنی لطیف اور او هوا سره گډه کما قال الله تعالیٰ ﴿وَخَلَقَ الْجَانَّ مِن مَّارِجٍ مِّن نَّارٍ﴾ (٢٧ جزء د الرحمٰن (١٥) آیت اوله رکوع) یا داسی وبوله چه د اور په شان سوځیدونکی هوا څخه چه موږ ورته «جل» یا «برو» وایو بهر حال د انسانانو پلار له داسی یوی مادی څخه پیدا کړی شوی دی چه د خاورو عنصر پکښې غالب دی. او د پیریانو پلار له هسی یوی مادی څخه روغ شوی دی چه په هغه کښې د اور عنصر غلبه درلوده (لرله) چه (ابلیس) هم په هم دغه قسم کښې ؤ.

وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّى خَٰلِقٌۢ بَشَرًا مِّن صَلْصَٰلٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴿٢٨﴾
فَإِذَا سَوَّيْتُهُۥ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِى فَقَعُوا۟ لَهُۥ سَٰجِدِينَ ﴿٢٩﴾

او (یاد کړه) هغه وقت چه وویل رب ستا ملائکو ته چه بیشکه زه پیدا کوونکی یم د یوه بشر له کودرو کړنګیدونکو وچو څخه (چه جوړ شوی دی) له توری ختی سخا شوی څخه نو کله چه برابر می کړ دغه (بشر) او پو می کړ په ده کښی له روح خپل (او دی پری ژوندی شو) نو پریوځئ تاسی ده ته په دی حال کښی چه سجده کوونکی یئ.

**تفسیر:** یعنی د آدم علیه السلام کالبوت به جوړ کړم، او د دی قابل به ئی وګرځوم چه په انسانی روح سره فائض او کامیاب شی، بیا په هغه کښی به روح او ساه ننباسم، چه په هغه یو جماد انسان کیږی نو په دغه وقت کښی به تاسی ته حکم درکاوه کیږی چه ګرد (تول) ورته سجده وکړئ.

**تنبیه:** پاک الله چه د «روح» (سا) اضافت پخپل طرف وکړ، دغه محض تشریف او تکریم او د انسانی روح د امتیاز ښکارولو لپاره دی، یعنی هغه خاص «روح» چه په هغه کښی ځما د (علم او تدبیر او نورو) صفاتو نمونه او په اصلی فطرت کښی ځما یادوونکی، او د خصوصی لطافت په سبب له ما سره نژدی علاقه لرونکی وه. امام غزالی رحمة الله علیه په بل عنوان پر دغه اضافت رڼا (رڼرا) اچولی ده او فرمائی «که لمر د نطق او د وینا قوت ومومی او ووائی چه ما د خپل د نور او رڼا (رڼرا) فیض ځمکی ته ورساوه، نو آیا دغه (د خپل نور) لفظ ویل به غلط وی؟ کله چه دغسی ویل صحیح دی، حال دا چه نه لمر په ځمکه کښی حلول کوی ـ او نه د هغه نور او رڼا (رڼرا) له هغه څخه بیلیږی، بلکه له ځمکه څخه په ملیونو کروه لری دی، خو له هغه ځایه د رڼا (رڼرا) اداره او زمام د ده په قبضه کښی دی او ځمکه هیڅ اختیار نه لری پرته (علاوه) له دی نه چه تری سم له خپله استعداده نفع حاصلوی، نو له وراء الوراء د پاک الله دغسی فرمایل چه ما په آدم علیه السلام کښی له خپل روح څخه وپوکل د حلول او اتحاد او نورو دلیل څرنګه کیدی. شی؟ د روح په متعلق مناسب کلام به انشاء الله وروسته له دی نه په

﴿وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّى﴾ کښی وکری شی.»

فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُوْنَ ﴿٣٠﴾ إِلَّآ إِبْلِيْسَ ؕ أَبٰىٓ أَنْ يَّكُوْنَ مَعَ السّٰجِدِيْنَ ﴿٣١﴾ قَالَ يٰٓإِبْلِيْسُ مَا لَكَ أَلَّا تَكُوْنَ مَعَ السّٰجِدِيْنَ ﴿٣٢﴾ قَالَ لَمْ أَكُنْ لِّأَسْجُدَ لِبَشَرٍ خَلَقْتَهٗ مِنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُوْنٍ ﴿٣٣﴾

نو سجده وکړه ملائکو ټولو د دوی ټمامو (یو کرت). مګر خو ابلیس؛ (چه له ډیره کبره) منع ئې راوړه له دې نه چه شي دی سره له سجده کوونکو (آدم ته نو) وفرمایل (الله) ای ابلیسه! څه (عذر) ؤ تا لره (په دې کښې) چه نه شوی ته سره له سجده کوونکیو؟. ووېل (ابلیس) چه نه یم زه (لائق د دې کار) چه سجده وکړم (داسې) بشر ته چه پیدا کړی دی له کودرو کړنګیدونکیو وچ (چه جوړ شوی دی) له توری ختې سخا شوی.

**تفسیر:** یعنې شیطان ووېل آدم علیه السلام پیدا شوی دی د «خسیس» شي نه چه خاوری دی، او زه پیدا یم له «شریف» شي نه چه اور دی، نو روحانی لطیف څیز جسمانی کثیف څیز ته څرنګه سجده وکړی؟

دی احمق دی ته هیڅ ونه کړ نظر
چه په خاورو کښې مدفون وی سیم و زر
امانت دی کار د ځمکې اور خائن دی
له امین نه خائن چیرته وی بهتر

قَالَ فَاخْرُجْ مِنْهَا فَإِنَّكَ رَجِيْمٌ ﴿٣٤﴾ لا

نو وفرمایل (الله ابلیس ته) پس ووځه ته له دې ځایه نو بیشکه ته رټلی شوی ئې.

**تفسیر:** یعنې له جنته، یا له آسمانه یا د ملائکو له ټولی یا له دغه عالی مقامه چه تر اوسه پوری ته هغه ځای ته رسیدلی وی (څه ووځه نو بیشکه ته رټلی شوی ئې) یعنې مردود او مطرود ئې. یا به «رجیم» اشاره وی هغه طرف ته چه پخوا تیر شو چه په «شهاب» د ستوری په لمبو شیاطین ویشتلی شي. ګواکې په دغه لفظ سره د هغې شبهې جواب ورکړی شوی دی چه ستا انکار له

سجدې شخه د عنصرې شرف په اعتبار نه دی، فضل او شرف خو خاص هغه چا لره دی چه پاک الله ورته سرلوړی او افتخار ورکړی، هو! ستا د دغې اباء او استکبار منشأ خو هغه شقاوت او بدبختی ده چه ستا د بد استعداد لامله (له وجې) په تا کښې مضمر او مقدر دی.

وَإِنَّ عَلَيْكَ اللَّعْنَةَ إِلَىٰ يَوْمِ الدِّينِ ﴿٣٥﴾

او بیشکه پر تا باندې دی (ای شیطانه) لعنت تر ورځې د جزاء پورې.

**تفسیر:** یعنی ای شیطانه! د قیامت تر ورځې پورې د الله تعالیٰ له رحمته لریوالی، او د بندگانو له لورې به هم لعنت درباندې وریږی، او په دغه ترتیب سره آناً فاناً ته له خیره لرې کیږې، کله چه تر قیامته پورې به د خیر توفیق ونه لرې او وروسته له هغه بله موقع له سره نشته ـ ځکه چه په آخرت کښې به هر سرې همغه ریبې چه دلته ئې کرلې وی. یا داسې ووایه چه د قیامت تر ورځې پورې به لعنتونه پرې وریږی، او وروسته له هغه به په بیشمارو اقسامو عذابونو کښې اخته کیږې. یا به د «الیٰ یوم الدین» لفظ له دوامه کنایه وی.

قَالَ رَبِّ فَأَنظِرْنِي إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿٣٦﴾ قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ الْمُنظَرِينَ ﴿٣٧﴾ إِلَىٰ يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُومِ ﴿٣٨﴾

وویل (ابلیس) ای ربه ځما پس وگوره (مهلت راکړه) ماته تر هغې ورځې پورې چه بیا پورته کولې شی (خلق) له قبورو. وفرمایل (الله) نو بیشکه چه ته له کتلیو (مهلت ورکړیو) شویو ئې تر (هغې ورځې د وقت معلومه (فناء د مخلوقاتو) پورې.

**تفسیر:** یعنی تر هغه معلومه وقته پورې تاته مهلت درکاوه شی چه په ښه زړه پورې خپل ارمان وباسې د دغې واقعې تفصیل په «البقرة» او «الاعراف» په سورتونو کښې تیر شوی دی او مونږ د «الاعراف» په دوهمه رکوع کښې د دې پر اجزاؤ شخه کلام هم کړی دی هغه دې هلته بیا ولوست شی، دلته د هغه د بیا اعادې شخه ضرورت نشته.

قَالَ رَبِّ بِمَا أَغْوَيْتَنِي لَأُزَيِّنَنَّ لَهُمْ فِي

الْأَرْضِ وَلَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٣٩﴾ إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ ﴿٤٠﴾

وویل (ابلیس) ای ربه ځما قسم دی ما لره په ګمراه کولو د تا ما لره چه خامخا ښائسته به کړم هرومرو (خامخا) (ګناهونه) دوی ته په ځمکه کښی او خامخا زه به ګمراهان کړم هرومرو (خامخا) دوی ټول. مګر خو هغه بند ګان ستا له دوی ځخه چه خالص کړی شوی دی (له ګناهونو)

**تفسیر:** یعنی انسانانو ته به د دنیا پسرلی وربنکاروم ـ او د نفسانی غوښتنی په حال کښی به ئی راګیروم ـ او ستا د مخصوصو او منتخبو بندګانو ځخه ماسواء نور ګرد (ټول) به له لیاری ځخه بی لیاری کوم. لعین ابلیس دغه کلمات د انتقام په جوش کښی ویلی دی چه مطلب ئی داسی ؤ چه زه خو ستا هیڅ شی نشم درخرابولی، لیکن په هغه سبب چه زه لری غورځولی شوی یم. د خپل قدرت او بساط سره موافق د ده تر نسلونو پوری به هم خپل انتقام آخلم، د «الاعراف» په سورت کښی په دغه موضوع مونږ څه لیکلی دی هغه دی بیا ولوست شی!.

قَالَ هَٰذَا صِرَاطٌ عَلَيَّ مُسْتَقِيمٌ ﴿٤١﴾

نو بیا وفرمایل (الله) دغه (اخلاص په عمل کښی) لیاره ده تر ما پوری برابره.

**تفسیر:** یعنی بیشکه د بندګی او اخلاص لیاره سمه برابره تر ما پوری رسیږی ـ او هم دغه ځما صافه او سمه لیاره ده چه پکښی هیڅ لوړه (پورته) ژوره (ځکته) او کاږه واږه نشته، او هر چا چه د عبودیت او اخلاص طریقه اختیار کړه، همغه به د شیطان لعین له تسلط نه مأمون پاتی کیږی ـ او هر ځوک چه د هغه ملعون متابعت کوی، له هغه سره به دوزخ ته ځی، ځینو مفسرینو ﴿ هَٰذَا صِرَاطٌ عَلَيَّ مُسْتَقِيمٌ ﴾ پر تهدید حمل کړی دی ـ یعنی ای ملعونه! ته چه خلق له سمی لیاری ځخه بی لیاری کړی چیری به ئی بیایی؟ هغه به کومه لیاره وی چه بالاخر ځما په لوری نه راځی؟ بیا ځما له سزا ځخه ځان ژغورلی (بچ کړی) چیری به تلی شی؟ په دغه وقت کښی دغه کلام به داسی وی لکه چه وائی «**افعل ماشئت فطریقک علی**» لکه چه د «الفجر» په (١٤) آیت (٣٠) جزء کښی هم فرمایلی دی ﴿ إِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ ﴾ والله اعلم.

إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ إِلَّا مَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْغَاوِينَ ﴿٤٢﴾

بیشکه خاص بندګان څما چه دی نشته تاته پر دوی هیڅ تسلط (او غلبه په ګمراه کولو) مګر هغه څوک چه متابعت کوی ستا له ګمراهانو (چه ستا زور پری رسیږی).

**تفسیر:** یعنی بیشکه پر هغه ښو غورو او منتخبو بندګانو چه د هغو ذکر پاس وشو ستا هیڅ زور نه چلیږی. یا به ئی دا مطلب وی چه پر هیڅ بنده به ته په زور او زبردستی څه کار نشی کولی، هو! هر هغه څوک چه پخپله ګمراه او بی لیاری شی او د خپل جهله او حماقته تا پسی رهی (روان) شی، هغه به پخپل اختیار خپل ځان خراب او بربادوی، لکه چه په ۱۳ جزء د ابراهیم په (۲۲) آیت (٤) رکوع کښی پخپله د شیطان مقوله تیره شوه
﴿ وَمَاكَانَ لِيَ عَلَيْكُمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ اِلَّآ اَنْ دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لِيْ ﴾

وَاِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوْعِدُهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۴۳﴾

او بیشکه چه جهنم (دوزخ) خامخا ځای د وعدی د دغو (تابعانو ستا) دی د تولو.

**تفسیر:** یعنی تاته او ستا نورو ملګریو ته د دوزخ بندیخانه تیاره ده تاسی ګرد (تول) په همغه کنده کښی غورځولی کیږی.

لَهَا سَبْعَةُ اَبْوَابٍ لِكُلِّ بَابٍ مِّنْهُمْ جُزْءٌ مَّقْسُوْمٌ ﴿۴۴﴾ ع

چه دی دی (دوزخ) لره اوه دروازی دپاره د هری دروازی له دی (ګمراهانو) څخه یوه برخه به وی قسمت (او تعیین) کړی شوی.

**تفسیر:** ځینو اسلافو له «سبعة ابواب» څخه د دوزخ اوه طبقی لاندی او باندی مراد کړی دی لکه چه ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه د هغوی نومونه داسی راښوولی دی (۱) جهنم (۲) سعیر (۳) لظی (٤) حطمه (٥) سقر (٦) جحیم (۷) هاویه. او د جهنم د لفظ اطلاق پر یوی خاصی طبقی او پر ګردو (تولو) طبقاتو پر دواړو کیږی د ځینو په نزد تری هغه اووه دروازی مراد دی چه په هغو کښی به بیل بیل مجرمان سره ننوځی والله اعلم.
حضرت شاه صاحب لیکی «لکه چه جنت اته دروازی لری او په نیک عملو کسانو ویشلی شوی دی، هم داسی د دوزخ دغه اووه ورونه هم پر بد عملانو ویشلی شوی دی ښائی د جنت یو ور

ځکه زیاد وی چه ځینې موحدین د الله په خاص فضل او مرحمت سره به بې له عمله په جنت کښې داخليږي، باقي په عمل کښې دروازې سره برابرې دي.

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿٤٥﴾

بیشکه ځان ساتونکي (له متابعت د ابلیس) په جنتونو کښې به وي او په چینو کښې به وي.

**تفسیر:** هغه کسان چه له کفر او شرک او معاصیو او له ذنوبو څخه پرهیز کوی دوی به حسب المراتب په باغونو کښې اوسیږي، چه هلته به په ډیرې ښې قرینې او نزاکت او لطافت سره چینې او ویالې بهیږي د شیطان له متبعینو څخه وروسته په دغه آیت کښې د مخلصینو عبادو انجام او خاتمه بیان فرمائی.

ٱدْخُلُوهَا بِسَلَٰمٍ ءَامِنِينَ ﴿٤٦﴾

(او وبه ویلی شي دوی ته) ننوځئ دغو جنتونو ته په سلامتی له هره آفته په دغه حال کښې چه په امن به یئ (له زواله د نعمت)

**تفسیر:** یعنی فی الحال به له ګردو (ټولو) آفاتو او عیوبو څخه صحیح او سالم ـ او په مستقبل کښې به د تل دپاره له هر قسمه بد فکری او پریشانی او خوف او ویرې څخه بې فکره او بې خطرې وي.

وَنَزَعْنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنْ غِلٍّ إِخْوَٰنًا عَلَىٰ سُرُرٍ مُّتَقَٰبِلِينَ ﴿٤٧﴾

او وبه باسو (لرې به کړو) هر هغه چه په زړونو د دغو (جنتیانو) کښې دي له کینې څخه حال دا چه (لکه) ورونه به وي سره ناست به وي پر تختونو (د زرو جراو په جواهرو) مخامخ یو بل ته.

**تفسیر:** یعنی وروسته د جنت د رسیدلو څخه په اهل الجنت کښې به یو تر بله هغه پخوانی کدورتونه به له سره نه پاتې کیږي، او له ګردو (ټولو) مکدرو (خیرنو) شیانو څخه به دوی پاکیږي، او وروسته له هغه چه په جنت کښې داخلیږي. نه به هلته یو پر بل حسد او کینه کوی، بلکه ګرد (ټول) لکه ورونه او خوارګه ملګری په انتهائی محبت او الفت سره اوسیږي، او هر یو به

د یو بل د لیدلو څخه د ډیر زیات مسروریت او محظوظیت احساس کوی (د دی څه بیان د «الاعراف» په ٥ رکوع کښی هم ښکلی شوی دی) او دغه اهل الجنت به د عزت او کرامت پر تختونو (پلازو) سره مقابل ناست وی، او یو له بل سره به خبری او اتری کوی ـ د ملاقاتونو او مجلسونو په وقت کښی به د دوی کیناستل داسی نه وی چه په هغه کښی به څوک وړاندی وی او څوک به وروسته وی.

لَا يَمَسُّهُمْ فِيهَا نَصَبٌ وَمَا هُم مِّنْهَا بِمُخْرَجِينَ ﴿٤٨﴾

نه به رسیږی دغو (جنتیانو) ته په دغه (جنت) کښی هیڅ قدر تکلیف او نه به وی دوی له دغه (جنته) ایستلی شوی هیچری.

**تفسیر:** په حدیث کښی دی چه جنتیانو ته به وویل شی ای اهل الجنت اوس تاسی ته دغه انعام دی چه تل روغ رمت او خوشاله اوسیږئ! نه به له رنځوری څخه څه ربړ (تکلیف) او زحمت درپیښیږی! او نه به له موت او د هغه د لوازمو څخه څه کلفت در وړاندی کیږی! بلکه تل ژوندی آرام او خوشاله اوسیږئ! او له سره د سفر په تکلیف به نه مقابل کیږئ!

نَبِّئْ عِبَادِي أَنِّي أَنَا الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴿٤٩﴾ وَأَنَّ عَذَابِي هُوَ الْعَذَابُ الْأَلِيمُ ﴿٥٠﴾

خبر کړه (ای محمده!) بندګان ځما (په دی) چه بیشکه زه هم دا زه ښه ښښونکی (د خطیانو) ډیر رحم والا یم (په انعام د اجر او ثواب سره) او (بل په دی چه) بیشکه عذاب ځما هم دغه عذاب ډیر دردناک دی.

**تفسیر:** د مجرمینو او متقینو خاتمه او انجام ئی بیل بیل سره بیان وفرمایل او دلته ئی تنبیه کری ده چه په هر صورت کښی د الله تعالیٰ د یوه نه یوه صفت او شان ظهور دی، هیڅ شبهه نشته چه الله تعالیٰ اصلاً پر خپلو ګردو (تولو) مخلوقو اراده لری چه بخشش او مهربانی وکړی، او په حقیقت کښی اصلی مهربانی د هم ده ده. د دنیا ګردی (تولی) مهربانی د ده د مهربانیو یوه پلوشه او تجلی ده لیکن هغه سری چه له خپل شرارت او بدکاری څخه پر خپل ځان د ده د بخشش او مهربانی ورونه بندوی، نو بیا د هغه سزا هم دومره سخته ده چه د هغی مخه هیڅوک نشی نیولی. حضرت سعدی شیخ مصلح الدین څرنګه ښه فرمایلی دی.
په تهدید که چاړه وکاړی د حکم

کرو بیلن به شی گرد (تول) سره صم وبکم

که د لطف وکرم عام وکړی یوست

عزازیل هم وائی ماته به څه ورسی رست

وروسته له دی نه د داسی یوی واقعی بیان فرمائی چه په هغی کښی د هغو پرښتو د نزول ذکر دی چه هم دوی په یو ځای کښی زیری ورکوی، او په بل ځای کښی تیږی (ګټی) وروی، څو معلوم شی چه د الله تعالیٰ دواړه صفات (رحمت او غضب) کامل دی ـ نو بندګانو ته ښائی چه نه مغرور او جسور شی، او نه بیخی نا امیده او مأیوس شی.

وَنَبِّئْهُمْ عَنْ ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ ﴿٥١﴾

او خبردار کړه دوی له (احواله د) میلمنو د ابراهیم څخه (چه څو پرښتی وی).

**تفسیر:** میلمه ئی ځکه وفرمایه چه ابراهیم علیه السلام په ابتداء کښی د هغو په نسبت د میلمنو خیال فرمایلی ؤ، خو وروسته ورښکاره شوه چه دوی پرښتی دی.

إِذْ دَخَلُوا عَلَيْهِ فَقَالُوا سَلَامًا قَالَ إِنَّا مِنْكُمْ وَجِلُونَ ﴿٥٢﴾

کله چه ننوتلی دغه (پرښتی) پر ده (ابراهیم) نو وویل دوی (سلام اچوو مونږ په تا) په سلام اچولو سره نو وویل (ابراهیم کله چه دوی ډوډی ونه خوړه) بیشکه مونږ له تاسی څخه ویریدونکی یو.

**تفسیر:** په بل ځای کښی ئی فرمایلی دی «و اوجس منهم خیفة» یعنی ویره ئی په زړه کښی پټه کړه، نو ویل کیږی چه په ابتداء کښی ئی د هغی ویری په پټولو کښی کوښښ وکړ، او بالاخر ئی نشوه ساتلی او په ژبه ئی هم ورظاهره کړه. یا به ئی مطلب داسی وی چه سره د هغی د پټولو، د خوف آثار د ده په څیره او نورو کښی داسی څرګند (ښکاره) ؤ چه ګواکی د حال په ژبه سره به ئی ویل چه زه خو له تاسی څخه ویریږم دغه ویره د څه لامله (له وجی) وه؟ د هغه تفصیل او د دغی واقعی پر نورو اجزاؤ کوم کلام چه شوی دی هغه ګردی (تولی) ښائی چه بیا په ۱۲ جزء د هود علیه السلام د سورت په (۷) رکوع کښی ولوست شی!.

قَالُوا لَا تَوْجَلْ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَامٍ عَلِيمٍ ﴿٥٣﴾

نو وویل (ملائکو) مه ویریږه بیشکه چه مونږ زیری کوو تاته په هلک ډیر پوه هوښیار سره (کله چه بالغ شی).

**تفسیر:** یعنی د ویریدلو هیڅ ضرورت نشته، بلکه د خوښی ځای دی چه په دغه زوړوالی کښی مونږ تاسی ته د الله تعالیٰ له جانبه د اولاد زیری درکوو. اولاد هم څرنګه؟ هلک! چه ډیر هوښیار لوی عالم دی چه د نبوت پر علومو پوه او د نبوت پر منصب فائزیږی؛ ﴿ وَبَشَّرْنٰهُ بِإِسْحٰقَ نَبِيًّا مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴾ (٢٣ جزء د الصافات (١١٢) آیت (٣) رکوع).

قَالَ أَبَشَّرْتُمُوْنِيْ عَلٰٓى أَنْ مَّسَّنِيَ الْكِبَرُ فَبِمَ تُبَشِّرُوْنَ ۝٥٤

وویل (ابراهیم) آیا زیری راکوئ ماته (ای پرښتو په ولد سره) سره د دی چه رسیدلی دی ماته زوړوالی نو په کومه وجه تاسی زیری راکوئ؟.

**تفسیر:** کله چه په غیر متوقع او فوق العاده ډول (طریقه) سره دغه زیری ئی واورید، نو خپل زوړتوب ته ئی کتلی دغه خبره څه عجیبه او غریبه ور څرګنده (ښکاره) شوه. دغه د انسانی طبیعت خاصه ده، کله چه انسان ته کومه ښه فوق التصور او خلاف التوقع خبره یو ناساپه فجأة ورسیږی نو سره له باور او یقین کولو د هغه تحقیق او تفتیش او تعقیب په ډیر ښه ډول (طریقه) سره کوی او د هغه په څیرنه کښی د تعجب لهجه اختیاروی څو خبر ورکوونکی په پوره تاکید او تصریح سره خپله خبره او زیری بیا په ښه ډول (طریقه) سره تکرار کړی ـ او دی ئی په ښه څیر سره بیا هم واوری چه په هغه کښی نه د هیڅ قسم ابهام او غلط فهمی احتمال، او نه د تأویل او التباس جنجال پاتی شی ـ ګواکی د تعجب له ښکارولو څخه د بشارت ښه واضح کول او پخول او د آوریدلو له تکراره نوی لذت حاصلول مقصود وی.

زه ویده یم؟ که یم ویښ؟ چه زه آورمه دا زیری
چه مقصود راته نژدی شو! ته دی بیا ووایه زیری

په هم دغه طرز سره حضرت ابراهیم علیه السلام د تعجب اظهار وفرمایه د (ابن کثیر رحمة علیه) الفاظ دا دی «**قال متعجبا من کبره وکبر زوجته ومتحققاللوعد فاجابوه مؤکدین لما بشروه به تحقیقا وبشارة بعد بشارة**» کله چه د کلام له سطحی څخه د ناامیدی توهم کیدی شو چه له اکابرو او بالخاصه د اولواالعزمو انبیاؤ له شان څخه بلکل خلاف دی نو ځکه ملائکو «فلا تکن من القانطین» وویل او تنبیه ئی وکره حضرت شاه صاحب لیکی «معلوم شو چه کاملین هم تر یوی درجی پوری د ظاهری اسبابو خیال کوی.»

قَالُوا بَشَّرْنٰكَ بِالْحَقِّ فَلَا تَكُنْ مِّنَ الْقٰنِطِيْنَ ﴿٥٥﴾ قَالَ وَمَنْ يَّقْنَطُ مِنْ رَّحْمَةِ رَبِّهٖٓ اِلَّا الضَّآلُّوْنَ ﴿٥٦﴾

وويل (ملائکو ابراهيم ته) چه زيری کړی دی مونږ تاته په حقه (په رښتيا) سره نو مه کيږه ته له جملې د نااميدانو څخه وويل (ابراهيم چه زه نه يم نا اميده) او څوک دی؟ چه نااميده کيږی به له رحمته د رب خپل (نه نااميده کيږی هيڅوک) مګر خو ګمراهان (کافران)

**تفسير:** يعني د الله تعالىٰ له رحمته خو عام مسلمانان هم نشي نااميده کيدی، نو انبياؤ عليهم السلام ته به معاذ الله څرنګه له هغه تردد پيښيږی محض د عاديه ؤ أسبابو او د خپل موجوده حالت په اعتبار دغه يو عجيب شی رامعلوم شو ـ او د هغه په نسبت می د تعجب اظهار وکړ چه د پاک الله په قدرت اوس په دغه زوړوالی کښې به زه د اولاد پلار کيږم؟ حضرت شاه صاحب ليکی «له عذابه د الله نه ويريدل او د الله تعالىٰ له فضله نااميده کيدل دواړه د کفر خبری دی».
يعني د وروسته خبر يوائحی الله تعالىٰ ته دی پر يوه خبره باندی دعوی کول او داسی يقين لرل چه دغسی نه کيږی، هم دغه د کفر خبره ده باقی په محض د زړه پر خيال او تصور هيڅ نيونه نشته کله چه په خوله سره دعوی وکړی نو ګناهګاريږی.

قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ اَيُّهَا الْمُرْسَلُوْنَ ﴿٥٧﴾

وويل (ابراهيم) نو نور څه مقصود دی ستاسی (برسيره پر دی زيری) ای راليږلی شويو (پرښتو له الله نه او چرته ځئ).

**تفسير:** يعني آيا محض تاسی د هم دغه بشارت آوروولو دپاره ليږلی شوی يئ؟ يا په بل کوم مهم کار هم مامور شوی يئ؟ اغلباً له قرائنو څخه به ابراهيم عليه السلام پوهيدلی وی چه دوی د کوم بل غټ کار لپاره هم راغلی دی.
ممکن دی له هغه خوفه چه ده ته د دوی د راتللو څخه پيدا شوی وی له هغه څخه به داسی يو خيال په زړه کښې تير شوی وی چه د دوی اصلی مقصد بل کوم شی دی، که نه د خالص زيری کوونکو څخه به ولی د سړی په زړه کښې ويره او خوف پيدا کيږی؟ هرومرو (خامخا) به له دوی سره کوم خوفناک امر وی والله اعلم.

قَالُوۡۤا اِنَّاۤ اُرۡسِلۡنَاۤ اِلٰی قَوۡمٍ مُّجۡرِمِیۡنَ ﴿۵۸﴾ اِلَّاۤ اٰلَ لُوۡطٍ ؕ اِنَّا لَمُنَجُّوۡهُمۡ اَجۡمَعِیۡنَ ﴿۵۹﴾
اِلَّا امۡرَاَتَهٗ قَدَّرۡنَاۤ ۙ اِنَّهَا لَمِنَ الۡغٰبِرِیۡنَ ﴿۶۰﴾

نو وويل (ملائكو) چه بيشكه مونږ راليږلي شوي يو(اهلاک د) هغه قوم (د لوط عليه السلام) ته چه مجرمان (کافران) دی مگر آل د لوط چه بيشکه هرومرو (خامخا) مونږ نجات ورکوونکي ساتونکي يو د دوی د ټولو (له عذابه) مگر ښځه د دغه (لوط) چه مقدره مقرره کړی وه مونږ (په حکم د الله سره) چه بيشکه دا له بيرته پاتی کيدونکيو ده په معذبينو کښی)

**تفسير:** يعنی دغه ښځه به له نورو کفارو سره په عذاب کښی مبتلا کيږی.

**تنبيه:** ظاهر خو هم دغه دی چه «قدرنا انها لمن الغابرين» د هغو ملائکو مقوله ده چه سره له عذابه راغلی وی ـ کله چه دوی د قضاء او قدر د فيصلی نافذ کولو دپاره په رسمی ډول (طريقه) سره راغلی وی، نو ځکه د تقدير نسبت ئی نيابت پخپل طرف وکړ ـ او ممکن دی چه دغه «قدرنا» الاية د الله تعالیٰ کلام وی نو په دغه تقدير سره هيڅ اشکال نشته.

فَلَمَّا جَآءَ اٰلَ لُوۡطِ ۣالۡمُرۡسَلُوۡنَ ﴿۶۱﴾ قَالَ اِنَّكُمۡ قَوۡمٌ مُّنۡكَرُوۡنَ ﴿۶۲﴾

نو کله چه راغلل آل د لوط ته (هغه) ليږلي شوی (ملائک). نو وويل (لوط) دوی ته بيشکه تاسی يو قوم يئ بل رنگ (نا آشنا ويروونکی).

**تفسير:** يا خو ئی دا مطلب دی چه تاسی ماته فوق العاده سری راښکاره شوئ چه ستاسی د ليدلو څخه خامخا ځما په زړه کښی خرخشه (تردد) پيدا کيږی دغه ښايی داسی يو خرخشه (تردد) وی چه د ابراهيم عليه السلام په زړه کښی هم پيدا شوی وه ـ يا به ئی دا غرض وی چه تاسی د دی ښار د خلقو څخه اجنبی راښکاريږئ تاسی ته د دی ښار د خلقو بد خوی نه دی معلوم وگورو چه هغوی له تاسی سره څه سلوک کوی؟ يا به ئی دغه په هغه وقت کښی فرمايلی وی چه خلقو پر دغو پرښتو د ځنکيانو (ووړکو) او ښکلو هلکانو گمان وکړ او د لوط عليه السلام پر کور ئی يرغل (حمله) وروړ لوط عليه السلام پر دوی د ميلمنو تصور کاوه او د دوی په ممکنه مدافعه او ساتنه کښی ئی زيار (کوشش) ايسته تر دی چه په آخره کښی ئی په نهايت حسرت سره وفرمايل ﴿ قَالَ لَوۡ اَنَّ لِیۡ بِكُمۡ قُوَّةً اَوۡ اٰوِیۡۤ اِلٰی رُكۡنٍ شَدِیۡدٍ ﴾ نو دی په دغه وقت کښی په تنگ راغلی ؤ او د خوف او ويری په حالت کښی به ئی دغو ميلمنو ته داسی ويلی وی چه تاسی خو عجيب ډول (طريقه) سری راښکاريږئ چه زه ستاسی د پت او عزت ساتنی دپاره

بیخی ستړی ستومانه او له ژونده ولویدم لیکن تاسی ځما په مرسته (مدد) لږ څه لاس او ژبه هم نه خوځوئ؟

قَالُوا بَلْ جِئْنَاكَ بِمَا كَانُوا فِيهِ يَمْتَرُونَ ﴿٦٣﴾

وویل (پرښتو نه یو مونږ نا آشنا ډارونکی) بلکه (ملائک یو چه) راغلی یو تاته په هغه (عذاب) سره چه وه (قوم ستا) چه په هغه (عذاب) کښی به ئی شک کاوه (له ډیر جهل او عناده).

**تفسیر:** یعنی مه ویریږه! مونږ بنیادمان نه یو، مونږ خو له آسمانه هغه شی له خپله ځانه سره راوړی دی چه په هغه کښی دا خلق له تا سره جگړی کوی. یعنی هغه مهلک عذاب چه ته په هغه سره در گرده (توله) دوی ویروی، او دوی پرله پسی تری انکار کوی.

وَأَتَيْنَاكَ بِالْحَقِّ وَإِنَّا لَصَادِقُونَ ﴿٦٤﴾

او راوړی دی مونږ تاته حق (چه عذاب دی) او بیشکه مونږ خامخا یو صادقان (رښتین په دغه خبره کښی).

**تفسیر:** یعنی اوس تاسی بالکل مطمئن شئ! دغه بالکل داسی پخه او غوته شوی خبره ده چه پکښی له سره د درواغو احتمال نشته.

فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِنَ اللَّيْلِ وَاتَّبِعْ أَدْبَارَهُمْ وَلَا يَلْتَفِتْ مِنْكُمْ أَحَدٌ وَامْضُوا حَيْثُ تُؤْمَرُونَ ﴿٦٥﴾

نو بوځه (وباسه) عیال خپل (له دی ښاره) په یوه توته د شپی او ته (هم ځه) وروسته په دوی پسی او نه دی گوری بیرته له تاسو څخه هیڅ یو (چه ونه ویریږی) او ځئ تاسی هغه ځای ته چه پری امر حکم شوی دی (تاسی ته).

**تفسیر:** یعنی کله چه د شپی لږ څه برخه پاتی شی نو ته سره د خپلی کورنی له دی ښاره ووځه! او تاسی له گردو (تولو) څخه وروسته لاړ شئ څو پوره مطمئن شئ چه بل ستاسی هیڅوک

نه دی پاتې شوی یا له لیاری بیرته نه دی ګرځیدلی نو په دغه صورت کښې به ستاسی زړه بالکل داده او مطمئن کیږی او په پوره خاطر جمعی سره به د الله تعالیٰ په ذکر او شکر کښې مشغولیږئ! او د خپلو ملګرو له احواله به په ښه شان سره خبریږئ! د بل لوری ستاسی د دغه بیرته تللو لامله (له وجی) به وړاندی تلونکی ستاسی له ویری شا نه ګرځوی ـ او وروسته به نه ګوری ـ په دی دول (طریقه) به د ﴿ وَلَا يَلْتَفِتْ مِنكُمْ أَحَدٌ ﴾ پوره امتثال کیدی شي او دغه کسان به د خطر له ځایه لری پاتې کیږی او دوی به تاسی خپل ظاهری ملاتړ او ظهیر ګڼی (اوځئ تاسی هغه ځای ته چه پری حکم کړی شوی دی تاسی ته) یعنی د شام په ملک کښې! یا بل کوم ځای ته چه پاک الله دوی ته هغه د امن ځای مقرر کړی وی.

وَقَضَيْنَآ إِلَيْهِ ذَٰلِكَ ٱلْأَمْرَ أَنَّ دَابِرَ هَٰٓؤُلَآءِ مَقْطُوعٌ مُّصْبِحِينَ ﴿٦٦﴾

او وحی کړی وه مونږ دغه (لوط) ته د دی کار (چه تفسیر ئی دا دی) چه بیشکه بیخ د دی کسانو به پری کړی شي په دی حال کښې چه دوی په صبا کښې داخلیږی.

**تفسیر:** یعنی لوط علیه السلام ته مونږ د ملائکو په واسطه دغه قطعی فیصله واوروله چه عذاب هیڅ لری نه دی، اوس د ګهیځ (سحر وختی) په وقت کښې به بالکلیه دغه قوم استیصال (هلاک) کړی شي! او بیخی به فناه کیږی ښائی چه مطلب ئی داسی وی چه د صباح پر شروع کیدلو سره به عذاب هم شروع کیږی او تر لمر ختو (اشراق) پوری به ګرده (توله) معامله پای (انجام) ته ورسیږی ـ ځکه چه په بل ځای کښې د «مصبحین» په ځای د «مشرقین» لفظ راغلی دی.

وَجَآءَ أَهْلُ ٱلْمَدِينَةِ يَسْتَبْشِرُونَ ﴿٦٧﴾

او راغلل اهل (د هغه) ښار (کور د لوط ته) چه خوښی زیری ئی کاوه (یو په بل سره په چرت د لواطت کښې).

**تفسیر:** یعنی کله چه ئی واوریده چه د لوط علیه السلام کره دیر حسین او جمیل هلکان میلمانه شوی دی نو د خپل بد عادت لامله (له وجی) په دیر شوق او رغبت د هغه په لوری ور په منده شول، او د ده د کور په شاؤ خوا کښې سره ورغوند شول، او د لوط څخه ئی مطالبه وکړه چه دغه هلکان مونږ ته راوسپاره.

**تنبیه:** په ﴿ وَجَآءَ أَهْلُ ٱلْمَدِينَةِ ﴾ الآیة ـ کښې واو د مطلق جمع لپاره دی ـ دلته د واقعاتو د ترتیبو بیان ملحوظ نه دی د «هود» او د «الاعراف» په سورتونو کښې دغه قصه تیره شوی ده،

هغه دی سره د هغو تفاسیرو دلته بیا ولوست شی!.

قَالَ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ ضَيۡفِي فَلَا تَفۡضَحُونِ ﴿٦٨﴾ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُخۡزُونِ ﴿٦٩﴾

وویل (لوط) چه بیشکه دا کسان میلمانه ځما دی نو مه شرموئ ما(په رسوائی د دوی ځکه چه د میلمه فضیحت د کوربه رسوائی ده) او وویریږئ تاسی له الله (او لواطت مه کوئ) او مه سپکوئ تاسی ما (د میلمنو په مخ کښې).

**تفسیر:** یعنی ای د سدوم خلقو تاسی له الله څخه وویریږی او دا بی ځایه کارونه پریږدئ او دا میلمانه مه خپه کوئ! ځکه چه زه به تاسی کښې اوسیږم نو تاسی ښائی چه ځما د پت (غیرت) او آبرو خاطر او لحاظ وکړئ! زه به د دغو میلمنو په نظر کښې څومره حقیر شم، کله چه دوی وپوهیږی چه په دغه کلی کښې یو سړی هم د ده عزت نه کوی او خبره ئی نه منی.

قَالُوٓاْ أَوَلَمۡ نَنۡهَكَ عَنِ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٧٠﴾

بیا وویل (قوم د لوط لوط ته) آیا نه وی منع کړی مونږ ته له (پناه ورکولو د) خلقو نه؟.

**تفسیر:** یعنی مونږ تا نه بی عزته کوو او ته پخپله ځان بی عزته کوی، کله چه مونږ ته منع کړی وی چه ته هیڅ یو پردی او پردیس پخپل کور کښې مه میلمه کوه! مونږ اختیار لرو چه له باندی راتلونکو مسافرانو سره هر هغه کار چه ځمونږ زړه غواړی وکړو نو بیا ته څه ضرورت لری چه خامخا دغه ځنګیان (هلکان) درکره ساتی، او ځان فضیحت کوی» له دی نه دا مترشح کیږی چه دغو خلقو به همیشه له پردی مسافرانو سره هم دغه شنیعه افعال اجراء کول او حضرت لوط علیه السلام به حتی المقدور د غریبانو او مسافرانو حمایت او پلوی (مدد) ئی هم کوله او د دغو نالائقانو له حرکاتو څخه به ئی ژغورل (بچ کول).

قَالَ هَٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِيٓ إِن كُنتُمۡ فَٰعِلِينَ ﴿٧١﴾

وویل (لوط) چه دغه (ستاسی ښځی) دی لونی ځما که یئ تاسی کوونکی (د نکاح له دغو سره).

**تفسیر:** یعنی بیشکه تاسی زه د اجنبی خلقو له حمایته منع کری یم، لیکن زه پوښتنه کوم چه آخر د دغی امتناع منشأ څه ده؟ آیا هم دغه خبره نه ده چه زه ستاسی د دغه خلاف الفطرت شهوانی کارونو په لیاره کښی حائل کیږم؟ تاسی خپله غور وکړئ چه آیا د شهوت د قضاء حلالی مواقع ستاسی په مخکښی موجودی نه دی چه د دغسی چتی (بیکاره) حرام کاری مرتکب کیږئ؟ دغه د ستاسی ښځی (چه ځما د لونو په شانی دی) ستاسی په کورونو کښی موجودی دی که تاسی ځما پر وینا عمل وکړئ او د شهوت د قضاء پر مشروعه او معقوله طریقه لاړ شئ، نو د حاجت د قضاء دپاره هغوی کافی دی دا څومره بده او خرابه خبره ده چه له حلال او طیب شی څخه تاسی مخ اړوئ او د حرامو په پلیتی کښی ځان ککړوئ!.

لَعَمْرُكَ إِنَّهُمْ لَفِي سَكْرَتِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿٧٢﴾

(نو وفرمایل الله) قسم دی په عمر ژوند ستا) ای محمده!) چه بیشکه دغه (قوم د لوط) خامخا په مستی د گمراهی) خپله کښی مدهوشان دی.

**تفسیر:** ظاهر خو دغه دی چه دا خطاب د الله تعالیٰ له طرفه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته دی یعنی ستا په عمر او ژوند قسم دی چه د لوط علیه السلام قوم د غفلتونو او مستیو په نشو کښی بیخی ویده (اوده) او ړانده شوی وو ـ دوی په ډیره بی پروائی سره د حضرت لوط علیه السلام نصیحت ونه مانه بلکه تر پښو لاندی به ئی غورځاوه ـ دوی د خپلو قوتونو په نشو کښی مست وو شهوت خوښول د دوی زړه او دماغ بیخی مسخ او خراب کری وو دوی په دیر امن او اطمینان د الله تعالیٰ د نبی سره جگړی کولی ـ او نه پوهیدل چه تر سحره پوری دوی ته څه حال پیښیدونکی دی؟ د تباهی او د موت وریځی د دوی پر سر ورختلی وی دوی د لوط علیه السلام پر خبرو خندل خو مرگ د دوی پر دغه وضعیت وخندیده.

**تنبیه:** ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه فرمایلی دی چه الله تعالیٰ په دنیا کښی هیڅ یو حیات لکه د محمد صلی الله علیه وسلم حیات اکرم او اشرف نه دی پیدا کری ـ ما نه دی اوریدلی چه پاک الله تعالیٰ د محمد صلی الله علیه وسلم له عزیز حیات څخه ماسواء پر بل کوم حیات قسم یاد کری وی ـ د هغو قسمونو په نسبت چه په پاک قرآن کښی یاد شوی دی مونږ به بل کوم ځای کښی لږ څه مفصل کلام کوو انشاء الله تعالیٰ.

فَأَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُشْرِقِينَ ﴿٧٣﴾

نو ونیول هغوی لره غږ هیبتناک (د جبریل) حال دا چه داخلیدل دوی په وقت د ختلو د لمر کښی

**تفسیر:** د دی په متعلق مونږ په هم دغه قریب ځای د «دابر هؤلاء مقطوع مصبحین» په تفسیر کښی کلام کړی دی. «ابن جریج رحمه الله» وائی هر هغه عذاب ته چه په هغه سره کوم قوم هلاک کاوه شی «صیحه» یا «صاعقه» ویلی شی.

فَجَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ ﴿٧٤﴾
إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِينَ ﴿٧٥﴾

نو وګرځاوه مونږ پورته طرف د دی ښارونو ښکته طرف د دوی او ووروول مونږ پر هغوی کاڼی له کوټکانو څخه (چه په هر یوه به د خپل مرجوم (سنګسار) نوم ښکلی ؤ). بیشکه چه په دغه (مذکور کښی چه تیری قصی دی) خامخا دلائل (د عبرت او قدرت) دی دپاره د پوهانو عبرت اخیستونکو.

**تفسیر:** د سدومیانو د تعذیب تفصیل د «هود» په سورت او نورو کښی تیر شوی دی. «متوسم» په اصل کښی هغه شخص ته وائی چه د ځینو ظاهری علاماتو او قرائنو له لیدلو څخه پواځی په فراست سره د کوم شی سراغ لګوی. په حدیث کښی راغلی دی «**اتقوا فراسة المؤمن فانه ینظر بنور الله**» په ځینو روایتونو کښی د «بتوفیق الله» زیادت شته یعنی د مؤمنینو له فراسته تل وویریږئ چه مومن د الله تعالیٰ له عطاء کړی شوی رڼا په توفیق سره وینی ښائی د «کشف» او «فراست» په منځ کښی (ځمونږ د ضیاؤ الملة والدین) مرحوم امیر عبدالرحمٰن خان په قول دومره فرق وی لکه چه په تیلفون او تیلګراف کښی وی. په هر حال د آیت مطلب دا دی چه فکر او چرت وهونکو او سراغ لګوونکو دپاره د لوط علیه السلام د قوم په قصه کښی د عبرت ډیری نښی او دلائل شته، او انسان پوهیدی شی چه د بدی او سرکښی انجام څرنګه وی؟ د پاک الله د عظیمه قدرت په مقابل کښی دغه ګرد (تول) طاقتونه هیڅ دی. د ده کوټک غږ نه لری د ده په مهلت نه ښائی چه سړی مغرور شی ـ او نه له انبیاؤ علیهم السلام سره ضد او عداوت پکار دی که نه د هغه خاتمه به همغسی کیږی لکه چه د پخوانیو سرکښانو انجام شوی دی وغیر ذلک.

وَإِنَّهَا لَبِسَبِيلٍ مُّقِيمٍ ﴿٧٦﴾

او بیشکه دغه (قریی) خامخا پرتی دی په لاره سمه (چلنده) کښی.

**تفسیر:** له مکی معظمی ځنی د شام په لوری تلونکیو ته د دغو چپه (روان) شویو ښارو کنډوالی

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٧٧﴾

او بیشکه په دغه (اهلاک د هغوی) کښی خامخا دلیل ( د قدرت) دی مؤمنینو ته.

**تفسیر:** یعنی د هغو کندوالو له لیدلو څخه بالخصوص مومنینو ته عبرت حاصلیږی ځکه چه هغوی پوهیږی چه د قوم لوط علیه السلام د بغاوت او بد کاری په سزا کښی دغه ښارونه سره د وسیدونکیو د هغو له یوه مخ په بل مخ اړولی شوی دی. د مؤمنینو څخه ماسواء نور خلق ممکن دی چه د هغو د لیدلو څخه داسی ووائی چه دغه ورانی محض اتفاقی یا طبیعی - یا د بخت او طالع (بدبختی) یا د نورو عواملو لامله (له وجی) واقع شوی دی.

وَإِن كَانَ أَصْحَابُ الْأَيْكَةِ لَظَالِمِينَ ﴿٧٨﴾

او په تحقیق شان دا دی چه وو خاوندان د ځنګل (له قوم د شعیب) خامخا له ظالمانو (په سبب د کفر خپل).

**تفسیر:** د «ځنګل» وسیدونکی. یعنی د شعیب قوم چه د «مدین» په ښار کښی اوسیدل او هغوی ته نژدی د ونو ځنګل (بڼ) ؤ - او ممکن دی چه ځینی خلق به هلته هم اوسیدل ځینی وائی چه «اصحاب الایکه» او «اصحاب المدین» دوه سره جلا (جدا) قومونه دی چه حضرت شعیب علیه السلام د دواړو په لوری مبعوث شوی ؤ. د دغو کسانو ګناه شرک او بت پرستی او داړه ماری او په تول او پیمانه کښی فریب ورکول او غولول ؤ. د دوی مفصله قصه د «هود» او د «الاعراف» په سورت کښی تیره شوی ده هلته دی ولوستله شی.

فَانتَقَمْنَا مِنْهُمْ وَإِنَّهُمَا لَبِإِمَامٍ مُّبِينٍ ﴿٧٩﴾

نو انتقام واخیست مونږ د دوی څخه (په سخته سزا سره) او بیشکه دا(ښارونه د لوط او شعیب) خامخا پراته دی په لیاره لویه ښکاره کښی.

**تفسیر:** یعنی د شام او حجاز پر هغی لیاری چه د لوط علیه السلام د قوم کلی ؤ له هغو څخه لږ

څه ښکته د شعیب علیه السلام د قوم مسکن ؤ، د دغو دواړو آثار به تلونکو راتلونکو ته په نظر راتلل.

وَلَقَدْ كَذَّبَ أَصْحٰبُ الْحِجْرِ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٨٠﴾

او خامخا په تحقیق دروغجن شمیرلي ؤ خاوندانو د حجر (چه کنده ده یعني ثمودیانو) د الله رسولانو لره.

**تفسیر:** له اصحاب الحجر څخه مقصود «ثمودیان» دي چه د دوی د ملک نوم «حجر» ؤ، او د مدینې منورې په شمال کښې واقع دی، او د دوی په لوری حضرت صالح علیه السلام مبعوث شوی ؤ، هغوی دی دروغجن وګانه. چه هم دغه یوه نبي ته د دروغو نسبت کول ـ ګواکي ګردو (ټولو) انبیاؤ ته د دروغو نسبت کول دي.

وَاٰتَيْنٰهُمْ اٰيٰتِنَا فَكَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ﴿٨١﴾

او ورکړی دي مونږ دغو (ثمودیانو) ته دلائل (د قدرت) خپل نو وو دوی له هغو (معجزو) څخه مخ ګرځوونکي.

**تفسیر:** یعني هغه اوښه چه له تیږې (ګټې) څخه ایستلې شوې وه او برسیره پر هغه نور معجزات.

وَكَانُوْا يَنْحِتُوْنَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوْتًا اٰمِنِيْنَ ﴿٨٢﴾

او وو دوی چه توږلي کینودلې به ئې له غرو څخه کوټې په دې حال کښې چه په امن کښې به وو (په هغو کښې له هره آفته).

**تفسیر:** یعني پر دنیوي ژوندون مغرور وو، او د خپل تکبر او لویې د ښکارولو دپاره ئې غرونه توږل، او لوی عالیشان منازل به ئې جوړول، او داسې به ئې ګڼل چه مونږ له سره له دې ځایه بل چیرې تلونکي نه یو، او پخپلو منځو کښې به ئې سره ویل چه «مونږ ته به په داسې مضبوطو او مستحکمو عمارتو کښې هیڅ یو آفت او مصیبت له سره نه وي رارسیدونکي».

فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُصْبِحِيْنَ ﴿٨٣﴾ فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿٨٤﴾

نو ونيول هغوی لره غړ هیبتناک (د جبریل) په دغه حال کښې چه داخليدل دوی په صبا کښې نو دفع نه کړ له دوی نه (هيڅ عذاب) هغو شيانو چه وو دوی چه حاصلول به ئې (چه تينګی بناوی اموال رجال او نور وو).

**تفسير:** يعنی مال ـ دولت ـ مستحکم عمارات ـ جسمانی قوت او نور اسباب او وسائل هيڅ يو شی هم د الله تعالیٰ عذاب نشی دفع کولی ـ د دوی قصه هم پخوا تيره شوی ده. په حديث کښې دی چه نبی کريم د تبوک د تګ په وقت کښې کله چه د «حجر» پر وادی تيريده، نو خپل مبارک سر ئې پخپل څادر پټ کړ، او د خپلی سورلی تګ ئې تيز کړ ـ او اصحابو ته ئې امر وکړ ـ چه «د معذب قوم په کليو کښې مه ننوځئ! مګر په داسی شان چه د الله تعالیٰ له ويری وژاړئ ـ او که ژړا نه درځی نو د ژړيدونکو په شان وضعيت ځان ته غوره کړئ! الله تعالیٰ دی داسی ونه کړی چه تاسی ته هم داسی شی در ورسيږی، چه دغو ته رسيدلی ؤ» دغه ئې مسلمانانو ته ادب وروښود چه سړی ښائی د دغسی ځايونو له کتلو څخه عبرت واخلی، او د پاک الله له ويری څخه لړزيدونکی او ويريدونکی وی، او د هسی ځايونو ليدل دی تش سيل او تماشا ونه ګنی.

وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ إِلَّا بِالْحَقِّ ۗ وَإِنَّ السَّاعَةَ لَاٰتِيَةٌ ۖ فَاصْفَحِ الصَّفْحَ الْجَمِيلَ ﴿٨٥﴾

او نه دی پيدا کړی مونږ (دغه) آسمانونه او ځمکه او هر هغه څه چه په منځ د دوی کښې دی مګر په حق (او حکمت او تدبير) سره؛ او بيشکه قيامت خامخا راتلونکی دی (نو الله تعالیٰ ستا انتقام اخلی له مکذبانو څخه) نو څنګ وکړه ته له دوی نه په څنګ کولو نيکو سره (يعنی عفوه ورته وکړه)

**تفسير:** حضرت شاه صاحب ليکی «د پخوانيو امتيانو حال ئې واوراوه چه دا جهان هم داسی تش نه دی ـ او پر سر ئې يو لوی مدبر شته چه د ده لوی ذات د هر څيز تدارک کوونکی دی. او د مکمل او آخری تدارک نوم قيامت دی او له کفارو څخه د په څنګ کيدلو امر ئې هلته وفرمايه چه د الله حکم ورسولی شی او د تبليغ فرض اداء کړی شی ـ او کافران لا پخپل ضد او عناد باندی تينګ ولاړ وی، نو دلته حکم وشو چه د زياتی جګړی کولو څخه هيڅ يوه فائده نشته ـ اوس نو د وعدی لاری ته ګوره ـ او د دوی په ايذاء او تکليف صبر کوه ـ او د شکايت حرف پر خپله ژبه مه راوړه! تر څو چه د پاک الله فيصله راشی.» (ځينو ويلی دی چه دغه حکم منسوخ شوی دی په آيت د سيف سره).

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْخَلّٰقُ الْعَلِيْمُ ﴿٨٦﴾

بېشکه رب ستا هم دی دی ښه پیدا کوونکی ډېر علم والا.

**تفسير:** يعنى هغه الله تعالىٰ چه ستا په صبر، او د هغوى له دغو ايذاؤ له ګردو (تولو) ښخه خبردار دی، او هر يوه ته د هغه د عمل سزا ورکوی. په دغه آيت کښې ئى ګواکى د معاد تقرير فرمايلى دی. يعنى هغه الله چه تاسى ئى يو ځلى پيدا کړى يئ آيا دوهم ځلى بيا پيدا کول ده ته څه مشکل کار دی؟ او د هر هغه شي اجزاء چه منتشر شوى وی ـ دی د هغو له هر جزء څخه ښه خبردار دی هر چيرى چه وی هغه به ګرد (تول) سره تولوى لکه چه په ۲۳ جزء د يٰسين په (۱۸) آيت (٥) رکوع کښې ئى فرمايلى دی
﴿ اَوَلَيْسَ الَّذِىْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِقٰدِرٍ عَلٰٓى اَنْ يَّخْلُقَ مِثْلَهُمْ بَلٰى وَهُوَ الْخَلّٰقُ الْعَلِيْمُ ﴾ الآية ـ

وَلَقَدْ اٰتَيْنٰكَ سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِىْ وَالْقُرْاٰنَ الْعَظِيْمَ ﴿٨٧﴾

او خامخا په تحقيق درکړى دی مونږ تاته اوه آيته له وظائفو يا له فاتحى او (درکړى دی مونږ تاته) قرآن عظيم (الشان خورا ـ ډېر ـ لوى).

**تفسير:** حضرت شاه صاحب ليکى «يعنى دغومره لوى نعمت ته وګوره چه تاته عطا شوى دی او د کفارو له ضده مه خپه کيږه!».
**تنبيه:** د «**سبع المثانى**» په مصداق کښې اختلاف دی. صحيحه او راجحه هم دغه ده چه له هغه څخه د سورت «الفاتحه» اووه آيتونه مراد دی چه د هر لمانځه په هر رکعت کښې تکراريږى. او د وظيفى په ډول (طريقه) هم ځو ځو کرته لوستل کيږى، (يا به ترى اووه سورت «طوال» يا اووه «حواميم» مراد وی) په حديث شريف کښې دی چه الله تعالىٰ په توريٰت انجيل زبور او نورو هيڅ يوه کتاب کښې د هغه مثل نه دی نازل کړى، په صحيحه ؤ احاديثو کښې تصريح ده چه نبى کريم صلى الله عليه وسلم د سورت «الفاتحه» په نسبت فرمايلى دی چه هم دغه «سبع المثانى» او عظيم الشان قرآن دی چه ماته راکړى شوى دی او دغه وړوکى سورت ته «قرآن عظيم» يعنى لوى قرآن فرمايل د اعتبار په درجه دی دغه سورت ته «ام القرآن» هم په هم دغه لحاظ سره وائى چه ګواکى دغه يوه خلاصه او عماد دی چه ښائى د هغه پوره تفصيل او شرح، پاک قرآن ګڼلى شى. د عظيم الشان قرآن د تمامو علومو او مطالبو اجمالى نقشه يواځى په هم دغه سورت کښې شته ـ برسيره په دی د «مثانى» د لفظ اطلاق له ځينو حيثياتو لامله (له وجى) پر پوره قرآن هم کړى شوى دی، ﴿ اَللّٰهُ نَزَّلَ اَحْسَنَ الْحَدِيْثِ كِتٰبًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِىَ ﴾ الآية ـ (۲۳ جزء د الزمر (۲۳) آية (۳) رکوع) او ممکن دی چه نورو سورتونو ته هم له مختلفو وجوهو

«مثانی» وویلی شی مګر په دغه ځای کښې د «سبع المثانی» او «قرآن العظیم» مصداق هم دغه د «الفاتحه» سورت دی یا به له «المثانی» نه د «الفاتحه» سورت او له «القرآن العظیم» نه پخپله عظیم الشان قرآن مراد وی او دغه عطف له قبیل د عطف د عام وی پر خاص باندی یعنی او خامخا په تحقیق سره درکړی دی مونږ تاته ای رسوله ځما اووه آیتونه له «الفاتحه» څخه او درکړی دی مونږ تاته قرآن لوی چه ئی لوی دی قدر او ثواب د لوستلو په نزد ځمونږ.

لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِۦٓ أَزْوَٰجًا مِّنْهُمْ

مه راکاږه او مه پورته کوه سترګی خپلی (په رغبت سره) هغو شیانو ته چه نفع ورکړی ده مونږ په هغه سره حال دا چه هغه قسم قسم شیان دی دغو کفارو ته.

**تفسیر:** مشرکین ـ یهود ـ نصاریٰ او د الله جلاله او رسول صلی الله علیه وسلم نورو دښمنانو ته د دنیا د څو ورځنی ژوندانه سامان چه ورکړی شوی دی، هغه ته مه ګوره! چه دغو ملعونانو ته دغه سامان ولی ورکړی شوی دی؟ چه له هغه څخه د دوی شقاوت او شرارت لا پسی زیاتیږی او که دغه دولت مسلمانانو ته رسیده، نو هغه به ئی په ښه لاره کښې لګاوه. دوی پریږدئ چه څو ورځی مزی وکړی. تاسی ته پاک الله د قرآن عظیم هغه دولت درکړی دی چه د هغه په مقابل کښې د دنیا نور دولتونه هیڅ دی. په روایاتو کښې راغلی دی «هر چاته چه الله تعالیٰ قرآن ورکړی او دی د نورو نعمتونو هوس کوی ګواکی ده د قرآن قدر ونه کړ.»

وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَٱخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿٨٨﴾

او خفګان مه کوه په دغو (کفارو چه ایمان نه راوړی یا په دی چه مؤمنان په ظاهری نعمتونو کښې نه دی) او ښکته کړه وزر خپل دپاره د مؤمنانو (او شفقت او مرحمت کوه پر دوی).

**تفسیر:** غم مه خوره چه دوی ولی نه مسلمانیږی ـ تاسی د خپل تبلیغ فرض اداء کوئ! او معاندینو پسی خپل ځان په زیات فکر او غم کښې مه مبتلا کوئ! ستاسی د شفقت او همدردی مستحق مؤمنین دی ـ له دوی سره د ملاطفت، پوستوالی، مهربانی، شفقت او تواضع وضعیت وکړئ!.

وَقُلْ إِنِّىٓ أَنَا ٱلنَّذِيرُ ٱلْمُبِينُ ﴿٨٩﴾

او ووایه (ای محمده!) چه بیشکه زه چه یم هم دا زه ویروونکی ښکاره یم (له عذابه د الله).

**تفسیر:** یعنی که ئې منئ یا ئې نه منئ زه د الله تعالیٰ پیغام صاف صاف تاسی ته رسوم او د تکذیبونو او شرارتونو له بدو عواقبو (انجام) څخه مو په ښکاره ډول (طریقه) سره آګاه کوم. حضرت شاه صاحب لیکی «ستا کار د زړونو آړول نه دی. دغه د الله له طرفه کیدی شی هر هغه چه ایمان رانه وړی نو ته ئې غم مه خوره!».

كَمَآ أَنزَلْنَا عَلَى ٱلْمُقْتَسِمِينَ ﴿٩٠﴾ ٱلَّذِينَ جَعَلُوا۟ ٱلْقُرْءَانَ عِضِينَ ﴿٩١﴾

(درکړی مو دی تاته سبع المثانی یا لیږلی مو ؤ عذاب) لکه چه نازل کړی ؤ مونږ (عذاب) پر قسمت کوونکو. هغو چه ګرځولی ئې وو (دغه) قرآن توټی توټی (چه ځینی ته به ئې شعر او ځینی ته به ئې سحر ویل).

**تفسیر:** د دی آیت معنی په څو ډوله (قسمه) شوی ده. ځینو ویلی دی چه له «مقتسمین - ویشونکو» څخه مراد د رسول الله صلی علیه وسلم د زمانی هغه یهودان او نصرانیان دی چه د قرآن تقسیم او تحلیل ئې کړی وو یعنی هغه قرآنی مضامین چه د دوی د تحریفاتو او آراؤ او اهواؤ سره موافق ولویږی، نو ئې منی. او هغه چه تری مخالف واقع شی، نه ئې منی - مطلب به ئې داسی شی چه مونږ تاسی ته «سبع المثانی» او «عظیم الشان قرآن» درکړی او لیږلی مو ئې - او همغسی چه پخوانیو انبیاؤ ته کتابونه لیږل یا وحی مو نازلوله (یا پر پخوانیو کفارو مو عذاب نازلاوه نو دغه) ارسال - یا د وحی انزال کومه نوی عجیبه خبره نه ده چه تری انکار وکړی شی. ځینو له «مقتسمین» څخه یهود او نصاریٰ - او د قرآن له لفظه سابقه کتابونه مراد کړی دی. یعنی هغوی تحریفات وکړل او خپل کتابونه ئې ځیری کړل - ځینو ویلی دی چه هغه مشرکان تری مراد دی چه د استهزاء او تمسخر په ډول (طریقه) په قرآن کښی ئې تقسیمات کول کله چه د قرآنی سورتونو نومونه به ئې آوریدل نو پخپلو منځو کښی دوی سره خندل او ویل به ئې چه «البقرة» یا «المائدة» به زه آخلم «العنکبوت» او «النمل» به تاته درکړم. دغو کسانو به یو بل قسم سره هم د قرآن عظیم په متعلق خپل خیالات تقسیم کړی وو. چا به ورته شعر ویل؛ چا به جادو ګڼه چا به د لیونیانو د اپلتو نسبت ورته کاوه. چا به «اساطیر الاولین» باله. نو دغو ګردو (تولو) ته ئې خبر ورکړ چه زه تاسی ګرد (تول) له داسی عذابه ویروونکی یم. لکه چه تیقناً پر دغو مسخرو کوونکیو باندی نازل کیدونکی دی. په دی تقدیر د «انزلنا» تعبیر به په دی لحاظ وی چه متیقن الوقوع او قریب الوقوع مستقبل ګواکی ماضی فرض شوی

دی. ابن کثیر د «مقتسمین» معنی په قسم یادوونکو سره اخیستی ده یعنی هغو پخوانیو اقوامو
چه د انبیاؤ په تکذیب او مخالفت باندی قسمونه یاد کری وو او پر دغو خبرو ئی قسمونه یادول
- دوی سماوی کتابونه توتی توتی کری وو، همغسی چه مونږ پر هغوی باندی عذاب نازل کړ، نو
د همغه عذاب پشان سره دغه ﴿ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴾ هم تاسی ویروی. د «مقتسمین» د دی معنی په تائید
کښی «ابن کثیر» دغه آیات وړاندی کری دی ﴿ تَقَاسَمُوا بِاللَّهِ لَنُبَيِّتَنَّهُ وَأَهْلَهُ ﴾ (١٩ جزء د النمل
(٤٩) آیة (٤) رکوع) ﴿ وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَا يَبْعَثُ اللَّهُ مَن يَمُوتُ ﴾ ١٤ جزء د النحل ٣٨
آیة (٥) رکوع ﴿ أَوَلَمْ تَكُونُوا أَقْسَمْتُم مِّن قَبْلُ مَا لَكُم مِّن زَوَالٍ ﴾ (١٣ جزء د ابراهیم (٤٤) آیة
(٧) رکوع.) ﴿ أَهَٰؤُلَاءِ الَّذِينَ أَقْسَمْتُمْ لَا يَنَالُهُمُ اللَّهُ بِرَحْمَةٍ ﴾ (٨ جزء د الاعراف ٤٩ آیة (٦) رکوع).

فَوَرَبِّكَ لَنَسْأَلَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٩٢﴾ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٩٣﴾

نو قسم دی په رب ستا چه خامخا وبه پوښتو مونږ خامخا دوی تول. د هغو
اعمالو (د قسمت یا نسبت) څخه چه وو دوی چه کول به ئی.

**تفسیر:** یعنی د چا عبادت مو کری ؤ؟ او انبیاؤ سره څرنګه مخامخ شوی وئ؟ او څه معامله مو
ورسره کری وه؟ «لا اله الا الله» مو ولی نه ؤ منلی او دغه حقه کلمه مو ولی نه وه اداء کری؟ او
نه دی رامعلوم چه له دی قسمه به څومره نوری پوښتنی هم له دوی څخه کیږی.

فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ ﴿٩٤﴾

نو ښکاره (او په جهر کړه ای محمده!) هغه چه ته مامور ئی پری او مخ
واړوه له مشرکانو څخه (او مه کوه هیڅ التفات او پروا د دوی ویلو ته).

**تفسیر:** یعنی په ویلو کښی هیڅ کوتاهی مه کوئ او ښه پاک په ښکاره ډول (طریقه) سره د
پاک الله پیغام ورسوئ! دغه مشرکین ستاسی هیڅ شی نشی خرابولی.

إِنَّا كَفَيْنَاكَ الْمُسْتَهْزِئِينَ ﴿٩٥﴾ الَّذِينَ
يَجْعَلُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ ۚ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٩٦﴾

بیشکه مونږ کافی شوی یو دپاره ستا (له شره) د مسخرو کوونکو (او بس

شوی یو له طرفه ستا په مقابل د اضرارو د هغو کښې هغه کسان چه گرځوی (شریکوی) دوی سره له الله (چه بر حق معبود دی) معبود بل نو ژر به پوه شي دوی (په عاقبت د کار خپل په دنیا او عقبیٰ کښې).

**تفسیر:** یعنی په دنیا او آخرت کښې مونږ گردو (تولو) مسخرو کوونکو ته سزا ورکوو ـ تاسی بی خوفه او خطره خپل تبلیغ ته دوام ورکړئ ستاسی یوه ویښته ته به هم څه ضرر او زیان نه رسیږی. ﴿الَّذِيْنَ يَجْعَلُوْنَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ﴾ هغه کسان چه گرځوی شریکوی دوی سره له الله چه برحق معبود دی معبود بل نو ژر به پوه شي دوی په عاقبت د کار خپل په دنیا او عقبا کښې) یعنی له رسول الله سره د استهزاء ـ او له الله تعالیٰ سره د شریک درولو د دغو دواړو انجام او سزا به دغه خلق گوری.

وَلَقَدْ نَعْلَمُ اَنَّكَ يَضِيْقُ صَدْرُكَ بِمَا يَقُوْلُوْنَ ﴿٩٧﴾ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُنْ مِّنَ السّٰجِدِيْنَ ﴿٩٨﴾ وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتّٰى يَاْتِيَكَ الْيَقِيْنُ ﴿٩٩﴾

او خامخا په تحقیق معلوم دی مونږ ته چه بیشکه ته چه ئی تنگی راوړی سینه ستا په سبب د هغه خبرو چه وائی دغه (کفار) نو تل تسبیح وایه سره له حمده د رب خپل او شه تل له سجده کوونکیو څخه او عبادت کوه د رب خپل تر هغه پوری چه راشي تاته یقین (یعنی مرگ).

**تفسیر:** یعنی که د کفارو له ضده او عناده او له دی نه چه شریک دروی الله تعالیٰ ته او طعن وائی په قرآن او تمسخر کوی په نبی صلی الله علیه وسلم ـ زړه تنگه شئ، نو تاسی هغوی ځنی خپله توجه واړوئ او بیخی د الله تعالیٰ په تسبیح او تحمید کښې مشغول شئ! د الله تعالیٰ ذکر ـ لمونځ ـ سجده ـ د الله تعالیٰ عبادت هغه شیان دی چه د هغه له تاثیره قلب مطمئن او منشرح او دادینه مومی او فکر او غم تری لری کیږی نو ځکه د نبی کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم عادت ؤ کله چه کومه مهمه خبره به ورپیښیده، نو دوی به په لمانځه مشغولیدل. ﴿وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتّٰى يَاْتِيَكَ الْيَقِيْنُ﴾ او عبادت کوه د رب خپل تر هغه پوری چه راشي تاته یقین) یعنی موت. د یقین لفظ د قرآن په بل ځای کښې هم په هم دغی معنی سره استعمال شوی دی ﴿وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ الدِّيْنِ حَتّٰى اَتٰىنَا الْيَقِيْنُ﴾ (٢٩ جزء د المدثر ٤٦ ؤ ٤٧ آیة ٢ رکوع) په حدیث کښې دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د یوه میت په نسبت داسی فرمایلی دی «**اما هو فقد جاءه الیقین وانی لارجو له الخیر**» د جمهورو اسلافو په نزد به دغه آیت کښې د «یقین» معنی په موت سره کیږی یعنی د مرینی تر وقته پوری د الله تعالیٰ په عبادت

کښې مشغول او لګيا اوسه!.

د الله په لیار کښې زیار (کوشش) کوه په فکر دَ عقبیٰ شه!
د مړینې تر سلګې پورې په ذکر د مولیٰ شه!

ځینو عارفینو په دغه ځای کښې له «یقین» ځخه د «قلبیه کیفیت» معنی مراد اخیستی ده د دې توجیه په «روح المعانی» کښې مذکوره ده هلته دې وکتله شي.

**تمت سورة الحجر. ولله الحمد والمنة وهوالمسئول ان یتوفانا علیٰ اکمل الاحوال و احسنها فانه جواد کریم ملک بر رب رءوف رحیم**

سورة «النحل» مکیة الا الایات الثلاث الاخیرة فمدنیة وهی مائة وثمان
وعشرون آیة وست عشر رکوعات رقمها (١٦) تسلسلهاحسب النزول (٧٠) نزلت بعد الکهف
د (النحل) سورت (مکی) دی پرته (علاوه) له دوو وروستنیو آیتونو چه (مدنی) دی یو سل او اته ویشت آیتونه
او شپاړس رکوع لری. په تلاوت کښې شپاړسم او په نزول کښې اویایم سورت دی وروسته د (الکهف)
له سورت ځخه نازل شوی دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع په نامه د الله چه خورا (ډیر) مهربان ډیر رحم والا دی.

أَتَىٰ أَمْرُ اللَّهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوهُ ط

راغی امر (حکم) د الله (په نصرت د مؤمنین او قیام د یوم الدین) نو تلوار مه کوئ تاسی هغه ته (ای کفارو)

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ د دغه حکم د وقوع وقت قریب رارسیدلی دی، چه «د رسول الله صلی الله علیه وسلم جماعت غالب او منصور ـ او د حق مخالفان به مغلوب او ذلیل وی، او هغوی ته به په دنیا کښې د مجاهدینو مسلمانانو له لاسونو، او په آخرت کښې د ﴿ أَحْكَمُ الْحَاكِمِينَ ﴾ د

دربار له لوری د شرک او کفر سزا ورسیږی او د قیامت ساعت هم لری نه دی» د هغه شی راتلل چه یقینی وی هغه ښائی راغلی وګڼلی شی. بیا د هغه د ژر غوښتلو ضرورت څه دی؟ کفارو به د تکذیب او استهزاء له لیاری ویل چه د هغه عذاب یا د قیامت وعده چه تاسی راسره کوئ ولی ژر نه راځی؟ نو دوی ته ئی تنبیه فرمایلی ده چه ستاسی له داسی ویلو څخه هغه لری کیدونکی نه ده، بلکه په حتمی او یقینی ډول (طریقه) سره هغه ژر راتلونکی ده، هر څومره چه یکښی ځنډ (تاخیر) هم ولګیږی هغه هم یو شان ستاسی په حق کښی مفید دی. ممکن دی په دی ضمن کښی ځینو ته د اصلاح او د توبی توفیق ور په برخه شی
﴿ وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالْعَذَابِ وَلَوْلَا أَجَلٌ مُّسَمًّى لَّجَاءَهُمُ الْعَذَابُ وَلَيَأْتِيَنَّهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴾ (٢١ جزء د العنکبوت (٥٣) آیت ٦ رکوع) ﴿ يَسْتَعْجِلُ بِهَا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِهَا وَالَّذِينَ آمَنُوا مُشْفِقُونَ مِنْهَا وَيَعْلَمُونَ أَنَّهَا الْحَقُّ أَلَا إِنَّ الَّذِينَ يُمَارُونَ فِي السَّاعَةِ لَفِي ضَلَالٍ بَعِيدٍ ﴾ (٢٥ جزء د الشوری ١٨ آیة ٢ رکوع)

---

سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ①

---

پاکی ده الله ته او لوی دی له هغه چه دوی شریک ورسره پیدا کوی (له بتانو او نورو).

---

**تفسیر:** یعنی کله چه د حق غلبه او پر کفر او شرک سزا ورکول یقینی دی، نو د توحید لیاره اختیار کړئ! او د شرک دود او دستور پریږدئ هغه شیان چه تاسی ئی د الله تعالیٰ شریکان بولئ له هغو څخه هیڅ یو د الله تعالیٰ د حکم مخه نشی نیولی او نه د پاک الله د عذاب څخه ممانعت کولی شی.

---

يُنَزِّلُ الْمَلَائِكَةَ بِالرُّوحِ مِنْ أَمْرِهِ عَلَىٰ مَن يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ أَنْ أَنذِرُوا أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاتَّقُونِ ②

---

نازلوی (الله) ملائکی سره له روح (اسرار د وحی) په امر (حکم) خپل پر هر چا چه اراده وفرمائی (د نبوت ئی) له بندګانو خپلو (او داسی فرمائی انبیاؤ ته) چه وویروئ (خبردار کړئ تاسی خلق) په دی چه بیشکه نشته برحق معبود مګر هم دا زه یم نو وویریږئ تاسی له ما نه

---

**تفسیر:** یعنی د پرښتو په جنس کښی ځینو ته لکه حضرت جبرئیل علیه السلام. یا حفظة الوحی

د هغو په لوری په ﴿ فَإِنَّهُۥ يَسۡلُكُ مِنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهِۦ رَصَدٗا ﴾ کښې ئې اشاره کړی ده (۲۹ جزء د الجن ۲۷ آیة ۲ رکوع).

﴿ بِٱلرُّوحِ ﴾ سره له روح او اسرارو د وحی یا سره له نبوت یا قرآن چه هر یو له دغو څخه ژوندی کوی) دلته له «روح» څخه د الله تعالیٰ هغه وحی مراده ده چه د الله تعالیٰ له لوری انبیاؤ ته په غیر مرئی طریقې د یوی سری او پټی خبری په ډول (طریقه) راتله، لکه چه په ۲٤ جزء د المؤمن په ۱۵ آیت دوهمه رکوع کښې ئې فرمایلې دی ﴿ يُلۡقِي ٱلرُّوحَ مِنۡ أَمۡرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ لِيُنذِرَ يَوۡمَ ٱلتَّلَاقِ ﴾ او په (۲۵) جزء د الشوریٰ (۵۲) آیت (۵) رکوع کښې یې فرمایلې دی «وکذلک اوحینا الیک روحا من امرنا» د قرآن یا د الٰهی وحی په «روح» سره تعبیر کولو کښې دغه اشاره ده چه همغسې چه مادی اجسامو ته له نفخې څخه ظاهری حیات حاصلیږی هم داسې هغه قلوب هم چه د جهل او ضلال له ناروغیو څخه مړه شوی دی، د الله تعالیٰ د وحی له رسیدلو څخه ژوندی کیږی.

﴿ مِنۡ أَمۡرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦٓ ﴾ په امر (حکم) خپل پر هر چا چه اراده وفرمائی د نبوت ئې له بندګانو خپلو) هغه بندګان انبیاء علیهم الصلوٰة والسلام دی چه پاک الله هغوی پر ګرد (تول) مخلوقاتو سم له خپل حکمت او کامل اختیار سره غوره کړی دی ﴿ ٱللَّهُ أَعۡلَمُ حَيۡثُ يَجۡعَلُ رِسَالَتَهُۥ ﴾ جزء(۸) (د الانعام ۱۲٤آیت ۱۵ رکوع) ﴿ ٱللَّهُ يَصۡطَفِي مِنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلٗا وَمِنَ ٱلنَّاسِ ﴾ (۱۷ جزء د الحج (۷۵) آیة (۱۰) رکوع) ﴿ أَنۡ أَنذِرُوٓاْ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱتَّقُونِ ﴾ داسې چه وویروئ او خبردار کړئ خلق په دی چه نشته هیڅ برحق معبود مګر هم دا زه یم نو وویریږئ تاسې له ما نه. یعنی د توحید تعلیم د شرک تردید ـ د تقویٰ په لوری دعوت، دغه علی الدوام د ګردو (تولو) انبیاؤ علیهم السلام مشترکه او متفقه نصب العین (ایدآل) دی. ګواکی دغه د توحید د اثبات نقلی دلیل دی وروسته له دی نه عقلی دلائل هم بیانیږی.

---

## خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّۚ تَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ۝٣

پیدا کړی دی (الله) آسمانونه او ځمکې په حق (حکمت او رښتیا) سره پورته دی (الله) له هغه چه شریکان ورته نیسی دغه (مشرکان).

---

**تفسیر:** یعنی د ځمکې او آسمان نظام ئې داسې درست او استوار پیدا کړ چه د هغه د لیدلو څخه لا محاله یقین راځی چه د ګردو (تولو) کائناتو سلسله ښائی یواځې د یوه مختار مالک د قدرت په لاس کښې وی ـ او که د څو واک (اختیار) لرونکو خدایانو په لاسونو کښې د خدائی اختیارات وی، نو دغه محکم انتظام او ټینګ انضباط به په دغومره مدت کښې له سره قائم پاتې کیدی نه شوی، او ضرور به ئې پخپلو منځونو کښې سره تصادم او ټکر خوړلی وی، بلکه د څو آزادو خدایانو د کش کولو او راکش کولو له وجې به دغه موجوده د عالم نظام بیخی نه وی

پاتی ـ لکه چه په (۱۷) جزء د الانبياء په (۲۲) آية (۲) رکوع کښې راغلی دی ﴿ لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللَّهُ لَفَسَدَتَا ﴾ او په (۱۸) جزء د المؤمنون په (۹۱) آية (٥) رکوع کښې داسی يو آيت لولو ﴿ وَمَا كَانَ مَعَهُ مِنْ إِلَٰهٍ إِذًا لَذَهَبَ كُلُّ إِلَٰهٍ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴾

## خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ نُطْفَةٍ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُبِينٌ ④

پيدا کړی دی (الله) انسان لره له نطفی (اوبو د منيو) نه نو ناڅاپه دغه (انسان) سخت جګړه کوونکی ؤ ښکاره (په ناحقه سره).

**تفسير:** يعنی د علوياتو او سفلياتو د انتظام څخه مو وروسته تاسی پيدا کړئ تاسی پخپله د خپل خلقت په لوری غور وکړئ! نو د الله تعالیٰ د عجيبو او غريبو صنعتونو او قدرتونو کارونه به درښکاره شی ستاسی اصل څه ؤ؟ يو داسی بی سا څاڅکی چه نه پکښې حس او حرکت ؤ۔ او نه شعور او اراده (او نه د تشکل او تصنع وړ (لائق) ؤ له جهته د نرموالی) او نه د خبرو او کار کولو لائق ؤ ـ او نه د دی خبری قابل و چه په کومه معامله کښې په جګړه سره خپل حق په چا باندی ومنلی شی ـ يا په نورو باندی غلبه حاصله کړی، اوس وګوره چه الله تعالیٰ د هغه ناڅيزه څاڅکی څخه څرنګه يو ښه شی جوړ کړی دی؟ او څنګه يو عجيب صورت ئی ورعطاء کړی دی؟ او په څومره اعلیٰ قوتونو او کمالاتو ئی فائض کړی دی؟ هغه چه د يوه حرف په ويلو قادر نه ؤ وګوره چه اوس څنګه ښې ويناوی، نطقونه او کانفرنسونه کوی؟ په هغه کښې چه لږ ادنیٰ حس او حرکت نه ؤ اوس څرنګه په هره هره خبره د جګړی کولو۔ او حجت او دلائل ايستلو قدرت پکښې پيدا شوی دی ـ حتیٰ په ځينو اوقاتو له مخلوقه تير شوی ـ تر خپل خالق پوری هم خبری کوی او د ده په مقابل کښې تينګ دريږی، او احکام ئی نه منی، او دا ئی هم په ياد ونه ساتله چه د ده اصل څه ؤ؟ او دغه طاقت ئی څرنګه حاصل کړ؟ او چا ورکړ؟

﴿ أَوَلَمْ يَرَ الْإِنْسَانُ أَنَّا خَلَقْنَاهُ مِنْ نُطْفَةٍ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُبِينٌ وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَنَسِيَ خَلْقَهُ قَالَ مَنْ يُحْيِي الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيمٌ قُلْ يُحْيِيهَا الَّذِي أَنْشَأَهَا أَوَّلَ مَرَّةٍ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ ﴾ (۲۳ جزء د يٰسين شريف ۷۷ ، ۷۸ او ۷۹ آيتونه ٥ رکوع).

## وَالْأَنْعَامَ خَلَقَهَا لَكُمْ فِيهَا دِفْءٌ وَمَنَافِعُ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ⑤

او چارپايان ئی پيدا کړی دی (الله) دغه (چارپايان)، تاسی ته (ای انسانانو!) چه شته په دوی کښې اسباب د ځان ساتلو (له يخنی) او (نوری ډيری) نفعی او له ځينو دغو (چارپايانو) څخه خورئ تاسی.

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ اوښ ـ غویی ـ میږه(ګډه) ـ اوزه (بیزه) او نور ئی درپیدا کړل. (چه د هغو له وړیو او ویښتانو او نورو څخه کمبل چکمن ـ جرابی ـ شړی ـ تکر (څادر) ـ تغر ـ لمسی کیږدئ ـ او د یخنی نه د ژغورلو (محفوظولو) دپاره نور شیان جوړوئ ـ برسیره په دی د هغوی شودی څښئ ـ او د بزګری چاری تری آخلئ ـ د غوړیو کچو ـ کړتو او ماستو او شوملو افراط د هم دغو حیواناتو له وجوده دی چه تاسی ته لنګیږی ـ او تاسی پری سوریږئ ـ او سوداګری او کراکښی پری کوئ) د دوی له څرمنی څخه څرنګه ښه ښه او بیش قیمته اسباب او سامان تیاروئ ـ د هغو حیواناتو غوښی چه خورئ په هغو کښی هیڅ کوم معتد به بدنی یا اخلاقی مضرت نشته. د دوی له غوښی او وازدو څخه څومره استفادی کیږی؟ او د څومره غریبانو نسونه پری مړیږی؟ او هغه نور خواړه چه مونږ ئی خورو، د هغو په تیاری کښی تر کومه اندازی پوری د دغو حیواناتو دخل شته؟.

---

وَلَكُمْ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ تُرِيحُونَ وَحِينَ تَسْرَحُونَ ﴿٦﴾

---

او شته تاسی ته په دغو (چارپایانو) کښی زیب زینت کله چه بیرته ئی کور ته راولئ لپاره د راحت او کله چه بهر ته ئی د څر لپاره بیایئ.

---

**تفسیر:** کله چه مواشی او حیوانات په کورونو کښی ولاړ وی ـ یا په صحراؤ کښی سره تیت او پرک (خواره واره) او په څر کښی لګیا او له سترګو څخه لری وی، نو په دغه وقت کښی د الله تعالیٰ د انعام داسی ښکاره او صافه مظاهره نه کیږی څه مهالی چه دوی ګهیځ (سحر وختی) په اوله د ورځی کښی د څر لپاره له کورونو وځی یا ماښام وروسته د څریدلو او ګیدی مړولو له صحراء څخه د کورونو په لوری راځی، نو یوه عجیبه رونق او خوښی، او ډیره ښه ننداره او خوشالی تری محسوسیږی ـ نه یواځی خاوند د خپلو دغو مالونو د لیدلو څخه خوښیږی، بلکه نور کسان هم د هغو له لیدلو څخه خوشالیږی ـ او یو له بله سره وائی چه پاک الله هغه سړی ته څومره دولت او اقبال ورکړی دی.

---

وَتَحْمِلُ أَثْقَالَكُمْ إِلَىٰ بَلَدٍ لَّمْ تَكُونُوا بَالِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ الْأَنفُسِ ۚ إِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿٧﴾

او باروی دغه (چار پایان) درانه بارونه ستاسی (او رسوی ئی) هغه ښار ته چه نه وئ تاسی رسیدونکی هغه (ښار) ته مگر په سختی مشقت د نفسونو (ځانونو) خپلو سره؛ بیشکه چه رب (پالونکی) ستاسی خامخا لوی شفقت والا ډیر رحم والا دی (چه دغه حیوانات ئی هم پیدا کړی دی ستاسو د منافعو لپاره).

**تفسیر:** یعنی چیری چه تاسی جره بی له اسبابه او سامانه په ډیر مشکل رسیدی شوی دغه بودگان (ځناور) تاسی او ستاسی درانه اسبابونه هم وړی ـ دا د الله تعالیٰ څومره لویه مهربانی ده چه دغه حیوانات یی ستاسی د خدمت دپاره خلق او درولی دی ـ او له دغو څخه د خدمت آخیستلو اجازه ئی درکړی ده څو خپل ډیر او سخت او مشکل مهمات هم د دغو حیواناتو په وسیله آسان کړئ ﴿ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا خَلَقْنَا لَهُم مِّمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَا أَنْعَامًا فَهُمْ لَهَا مَالِكُونَ وَذَلَّلْنَاهَا لَهُمْ فَمِنْهَا رَكُوبُهُمْ وَمِنْهَا يَأْكُلُونَ ﴾ (٢٣ جزء د یٰسین شریف (٧١ و ٧٢) آیة (٥) رکوع)

وَّالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً ۚ

او (پیدا کړی دی الله) آسونه او قچر او خره لپاره د دی چه سوریږئ تاسی په دوی باندی او (زینت کوئ پر دغو) په زینت کولو سره،

**تفسیر:** یعنی پری سوریږئ او عزت او شان مو تری ظاهریږی.

**تنبیه:** په عربستان کښی د خره سورلی معیوبه نه ده، او د هغه ځای خره (ځمونږ پښتنو د بلخی خرو په شان) ډیر غښتلی ـ قیمتداره، گرندی، چالاک او ښکلی وی ـ حتیٰ ځینی خره د اس په شان مزل کوی، ډیر او ښه ځغلی.

وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُونَ ۝٨

او پیدا کوی (الله ډیر نور) خیزونه چه اوس ئی نه پیژنئ تاسی.

**تفسیر:** یعنی د هغو حیواناتو (او مرکوباتو) ذکر چه پاس وشو برسیره پر هغه الله تعالیٰ ستاسی د انتفاع دپاره داسی نور شیان هم پیدا کړی او پیدا کوی ئی چه له هغو څخه اوس تاسی بی خبره یئ ـ په دغه کښی هغه گرد (تول) د سورلی شیان داخل شول چه تر قیامته به جوړیږی. (او اوس د هغو یواځی وهم او تصور هم تاسی نشئ کولی او تش خطور او حضور ئی هم ستاسی په قلوبو کښی نشی راتلی. نو ځکه اکثرو مفسرینو د دی مبارک آیت په تفسیر کښی سکوت

غوره کړی دی).

وَعَلَى اللَّهِ قَصْدُ السَّبِيلِ وَمِنْهَا جَائِرٌ

او خاص پر الله دی بیان د لاری (برابری تفضلاً) او ځینی د لارو څخه کږی مائلی هم دی (له حقه)

**تفسیر:** پخوا ئی فرمایلی ؤ چه تاسی د حیواناتو پر شاؤ سوربیږئ او هغه مو سره له اسبابه او سامانه په ډیرو سختو او مشکلو ځایونو کښی هم وړی، او راوړی او د مقصود تر منزل پوری مو رسوی ـ دغه د بدنی او د حسی سیر او سفر حال ؤ ـ اوس د دی په مناسبت د روحانی او معنوی سیر او سیاحت په طرف کلام منتقل کړی شو ـ یعنی هغه شانی چه د ځمکی د لیاری پری کولو او د مقصود تر منزل پوری د رسیدلو وسائل در برابر کړی دی هم داسی تر الله پوری د رسیدلو سمه لیاره ئی هم در پرانستلی ده ـ د هر چا چه پوه او عقل سم وی نو هغه د پاس مذکور شویو دلائلو او بصائرو کښی له غور کولو څخه د الله تعالیٰ پر قدرت او عظمت او جبروت به ایمان راوړی، او د توحید او تقویٰ په سمه لیاره بی له خرخشی (خطری) تر الله پوری رسیږی ـ لیکن د هر چا چه عقل سم نه وی نو پر دغه سم سرک باندی به د تللو توفیق له کومه وموندلی شی، دی به تل د اهواؤ او اوهامو په پیچدارو لوړو او ژورو کښی لالهانده او سرګردانه ګرځی ﴿وَاَنَّ هٰذَا صِرَاطِیْ مُسْتَقِیْمًا فَاتَّبِعُوْهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِکُمْ عَنْ سَبِیْلِهٖ﴾ (٨ جزء د الانعام ١٥٣ آیت ١٩ رکوع) شیخ الهند رحمة الله علیه د دی آیت ترجمه داسی کړی ده «او تر الله پوری رسیږی سمی لیاری او ځینی لاری کږی هم دی» ځما نیکه مولٰینا مراد علی کاموی رحمة الله علیه د دی آیت ترجمه داسی کړی ده او خاص پر الله تعالیٰ دی لیکن تفضلاً نه وجوباً بیانول د میانه لاری چه رسوونکی ده حق ته او بعضی له دی لیارو چه ناپوه خلق پری رهی او روان دی چپی او کږی تللی دی له مقصوده لکه د کفر او د شرک او د هوا او د بدعت لیاری).

وَلَوْ شَاءَ لَهَدٰىكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٩﴾

او که اراده فرمایلی وی (الله د هدایت ستاسی) نو خامخا سمه برابره لیاره به ئی ښوولی وه تاسی ټولو ته.

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ له دی خبری څخه نه دی عاجز چه ګرده (ټوله) دنیا په همغه یوه لیاره کښی ولګوی. لیکن د ده حکمت مقتضی نه دی چه ګرد (ټول) د یوه اصول په اختیارولو باندی مجبور کړی. لکه چه مونږ پخوا له دی نه په متعددو مواقعو کښی د هغه تشریح کړی ده.

هُوَ الَّذِىٓ اَنۡزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً لَّـكُمۡ مِّنۡهُ
شَرَابٌ وَّمِنۡهُ شَجَرٌ فِيۡهِ تُسِيۡمُوۡنَ ﴿۱۰﴾

الله هغه (ذات) دی چه نازل کړی رالیږلی دی له (طرفه د) آسمانه اوبه چه دی تاسو ته له دی اوبو څخه څښل او له دغو اوبو څخه ونه (واښه) هم ده چه په دغو وښو کښې څروئ تاسی (حیوانات خپل).

**تفسیر:** یعنی د اوبو څښلو قابل ئی وګرځاوه ـ او له هغه څخه ئی ونی واښه او نور نباتات زرغون کړل چه پکښې ستاسی حیوانات څر کوی.

يُنۡۢبِتُ لَـكُمۡ بِهِ الزَّرۡعَ وَالزَّيۡتُوۡنَ وَالنَّخِيۡلَ وَالۡاَعۡنَابَ وَمِنۡ كُلِّ
الثَّمَرٰتِ‌ؕ اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوۡمٍ يَّتَفَكَّرُوۡنَ ﴿۱۱﴾

زرغونوی (الله) تاسی ته په دغو اوبو سره کښت (فصل) او زیتون (خونه) او خرما ګانی او (تاکونه د کورو) انګورو او له هر قسمه میوو څخه بیشکه په دغه (زرغونتیا د دغو مذکوره ؤ اشیاؤ) کښې خامخا لویه نښه (د قدرت) ده لپاره د (هغه) قوم چه (غور) فکر کوی (پکښې).

**تفسیر:** یعنی له یو رنګ اوبو څخه راز راز (قسم قسم) میوی زرغونوی چه د هغو شکل او صورت او رنګ او رائحه او خوند او تاثیر بیخی بیل دی، په دغه کښې غور کوونکی ته د الله تعالیٰ د کامل قدرت او غریبه صنعت لوئی نښی دی چه له یوی ځمکی ـ یو لمر ـ یوی هواء او یوه رنګ اوبو څخه څرنګه ډول ډول (قسم قسم) ګلان او میوی تل پیدا کیږی؟.

وَسَخَّرَ لَـكُمُ الَّيۡلَ وَالنَّهَارَ ۙ وَالشَّمۡسَ وَالۡقَمَرَ‌ ؕ وَالنُّجُوۡمُ
مُسَخَّرٰتٌ ۢ بِاَمۡرِهٖ‌ ؕ

او مسخره کړی ئی ده (په کار ئی لګولی ده) تاسی ته شپه او ورځ او لمر

او سپوږمۍ، او ستوري مسخري (په کارونو کښې لګولی شوی) دي په امر حکم د دغه (الله) سره.

**تفسير:** شپه او ورځ برابر يو له بله سره نښتي دي څو دنيوي کاراوبار پري وچليږي او خلق سکون او آرام تري حاصل کړي شي ـ هم داسي لمر او سپوږمي هم تر يوه معين نظام لاندي راښکاري او پټيږي ـ د شپي او د ورځي د دغه تګ او راتګ او د شمس او قمر د دغه ختلو او پريوتلو سره د انسانانو بيشماره فائدي ترلي دي، بلکه که په غور سره وليده شي نو بي له دغو څخه د انسان ژوند محال دی الله تعالیٰ پخپل کامل اقتدار سره لمر ـ سپوږمي او نور ګرد (تول) ستوري ئي د ادنیٰ مزدورانو په شان څمونږ په کارونو کښې لګولی دی ـ مجال نشته چه دوی لږ څه سستي وکړي يا غاړه تري وغړولي شي ليکن څرنګه چه له لمر او سپوږمي سره څمونږ اړه بالکل په صريح دول (طريقه) متعلقه ده او له نورو ستوريو سره څمونږ د فائدو او مصالحو تعلق دومره واضح نه دی، ښائي د هم دی لامله (له وجي) هغه ئي بيل کړل ـ او تر بل عنوان لاندي ئي بيان وفرمايل. والله اعلم.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿١٢﴾
وَمَا ذَرَأَ لَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُخْتَلِفًا أَلْوَانُهُ

بيشکه په دغو (علويه ؤ تصرفاتو) کښې خامخا ډير دلائل(د قدرت) دي دپاره د (هغه) قوم چه عقل چلوي (پکښې)، او (مسخر کړي ئي دي نور) هغه څيزونه چه پيدا کړي غوړولي دي (الله) تاسي ته په ځمکه کښې حال دا چه مختلف دي سره رنګونه (شکلونه او قسمونه) د دوی.

**تفسير:** يعني هغه لوی او لوړ ذات چه اسماني شيان ئي ستاسي پکار لګولي دي، همغه ستاسي د فائدي دپاره په ځمکه کښې هم مختلف قسم نباتات پيدا کړي دي چه په ماهيت ـ شکل ـ صورت ـ رنګ ـ بوی منافع او خواصو او نورو ګرده (توله) کښې يو له بل سره بالکل جلا (جدا) او عليٰحده دي په دغه کښې ګرد (تول) حيوانات نباتات ـ جمادات ـ بسائط او مرکبات شامل شول.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٣﴾ وَهُوَ الَّذِي
سَخَّرَ الْبَحْرَ لِتَأْكُلُوا مِنْهُ لَحْمًا طَرِيًّا وَتَسْتَخْرِجُوا مِنْهُ حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا

وَتَرَى الْفُلْكَ مَوَاخِرَ فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا مِن فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٤﴾

بیشکه په دغه (اختلاف د اشکالو، اقسامو، انواعو د مخلوقاتو) کښي خامخا (د قدرت لوی) دلیل دی دپاره د هغه قوم چه پند اخلي او الله هغه (ذات) دی چه مسخر کړی (په کار ئی اچولی) دی بحر دپاره د دی چه وخورئ تاسي له (ښکاره د) دی (بحره) غوښه تازه او راوباسی تاسي (په غوپه وهلو سره) له دغه (بحره) ګانه چه اغوندئ ئی تاسی (یعنی ښځی ستاسی)، او وینی به ته (ای کتونکیه) بیړی رهی (روانه) په دغه (بحر) کښي (چه څیروی په تتر خپل اوبه) او چه طلب کړئ تاسي (رزق) له فضله د دغه (الله) او دپاره د دی چه شکر وباسئ تاسی (پر دغو نعمتونو).

**تفسیر:** یعني داسی موج او څپی وهونکی خوفناک سمندر ئی هم (چه د هغه په مقابل کښی د ضعیف البنیان انسان بساط هیڅ نه دی) ستاسی په کار کښی لګولی دی چه په هغه کښی بی تکلفه د ماهیانو (کبانو) ښکار کوئ ـ او ډیره لذیذه او ترو تازه غوښه تری حاصلوئ! د هغه د ځینو برخو څخه مرغلری درمرجان ـ حجرالبحر ـ او نور راز راز (قسم قسم) پیداوار پیدا کوئ! چه له هغو څخه ډیری قیمتداری ګانی او زیورات تیاریږی، ښه! د سمندر دغو لویو موجو او څپو ته وګورئ! چه د هغه په مقابل کښی د ډیرو لویو لویو جهازونو حقیقت د یوه خس او واښه په شان هم نه دی، لیکن یوه وړوکی کشتی او بیړی څرنګه دغه موجونه څیروی؟ او پری درومی؟ دا د الله تعالیٰ د قدرت یوه نمونه ده چه انسان ته ئی عقل ورکړی دی او د داسی شیانو د جوړولو ترکیب ئی ورښوولی او پوهولی ئی دی چه د هغه په ذریعه سره تاسی پر سمندرونو باندی متصرف او له یوه سره تر بله سره پوری ځئ.

﴿وَلِتَبْتَغُوا مِن فَضْلِهِ﴾ او چه طلب کړئ تاسی رزق د فضله د الله څخه او دپاره د دی چه شکر وباسئ تاسی پر دغو نعمتونو) یعنی پر جهازونو او کشتیو تجارتی مالونه بار کړئ! او له یوه ملک څخه ئی بل ملک او له یوه براعظم څخه ئی بل براعظم ته ورسوئ! او د الله تعالیٰ په فضل سره ډیره زیاته او فراخه روزی حاصله کړئ! بیا د الله تعالیٰ احسان ومنئ! او د ده د نعمتونو په مقابل کښی شکر وباسئ!.

وَأَلْقَىٰ فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ وَأَنْهَارًا وَسُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٥﴾

او غورځولی (پیدا کړی) ئی دی په ځمکه کښی بارونه (غرونه میخونه محکم)

لپاره د دی چه ونه ښوریږی (چپه نشی ځمکه) پر تاسی باندی او (پیدا کړی دی الله په دی ځمکه کښی) ویالی او لیاری لپاره د دی چه لیاره وموميء (خپلو منازلو او مقاصدو ته).

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ پر ځمکه ډیر درانه لوی لوی غرونه ایښی دی، څو ځمکه د خپل اضطرابی حرکت څخه کراره (قلاره) شی ـ له روایاتو او آثارو څخه معلومیږی چه ځمکه د خپل خلقت په ابتداء کښی مضطربه او بی واکه خوځیده او در ګرده (توله) لړځیده، الله تعالیٰ پر هغی باندی غرونه پیدا کړل چه د هغو د درونوالی په اثر د ځمکی هغه خوځیدل ورک شول، د نن پرون «سائنس» هم اقرار کړی دی چه د غرونو وجود تر ډیره حده پوری د زلازلو له کثرته مانع دی په هر حال د ځمکی د هغه حرکت او سکون مسئله چه په حکماؤ کښی مختلف فیه ده له هغه سره دا آیت نفیاً یا اثباتاً هیڅ تعلق نه لری ځکه چه د غرونو په وسیله کوم حرکت چه بند شوی دی، هغه دا وضعی حرکت نه دی چه په هغه کښی اختلاف جاری دی.

﴿ وَأَنْهَٰرًا ﴾ او پیدا کړی دی الله په دغه ځمکه کښی ویالی) یعنی د ویالو او سیندونو او نهرونو سرچینه چیری په غرونو کښی وی، څو هغه د غرونو او میدانونو څخه تیریږی او په سلهاؤ او زرهاؤ میله مسافو کښی د الله تعالیٰ په حکم هغو کلیو او ښارونو ته رسیږی چه د هغوی رزق او روزی په هغو اوبو پوری متعلقه کړی شوی ده.

﴿ وَسُبُلًا ﴾ او پیدا کړی دی الله لاری) چه پری وکولی شيء چه له یوه ملکه څخه بل ملک ته لاړ شيء.

وَعَلَٰمَٰتٍ ۚ وَبِٱلنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ ﴿١٦﴾

او (پیدا کړی دی الله په ځمکه کښی) علامی (د لیاری) او په ستوریو سره دغه (لار تلونکی) لیاره مومی.

**تفسیر:** یعنی غرونه چینی ـ ونی ـ د شګو غوندی ـ الغرض د مختلفو اقسامو علایم ئی قائم کړی دی چه د هغو په وسیله د مسافرانو قافلی د سمی لاری سراغ او نښه موندلی شی. ما پخپلو سترګو لیدلی چه ځینو اعرابو (بدوانو) د خاوری په بویولو سره د لیارو نښی پیدا کړی دی.

﴿ وَبِٱلنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ ﴾ او په ستوریو سره دغه لار تلونکی لاره مومی) یعنی د شپی په وقت کښی لویو سیندونو او لویو بیابانونو په سفر کښی د ځینو ستوریو په ذریعه د لاری درک او طرف معلوموه شی ـ هغه لیار ښوونه چه د قطب نما او نورو آلاتو په وسیله کیږی هغه هم بالواسطه له ستوری سره تعلق لری.

أَفَمَنْ يَّخْلُقُ كَمَنْ لَّا يَخْلُقُ ۗ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿١٧﴾

آیا هغه (ذات چه هر شی) پیدا کولی شی (چه الله دی) پشان د هغه دی چه نشی پیدا کولی (هیڅ څیز چه بتان دی بلکه نه لری سره مشابهت)؛ آیا نو پند نه آخلئ تاسی (چه خالق او مخلوق سره وپیژنئ! او په خالق ایمان راوړئ!)

**تفسیر:** یعنی فکر کول په کار دی چه دغه څومره حماقت دی هغه شیان چه د مچ یو وزر یا د ماشی یوه پښه بلکه د اوربشی یوه دانه یا د شگی د یوه بخرکی په پیدا کولو هم قادر نه وی، د هغوی معبود او مستعان درول دغه الله قدوس سره ئی برابرول چه د پاس مذکورو عجیبو او غریبو مخلوقاتو هم پیدا کوونکی او د هغوی د محکم نظام هم قائم ساتونکی دی، ډیره لویه بی ادبی ده. نو تاسی دغی گستاخی او سپین سترگی ته وگورئ چه څومره د وقاحت او قباحت خبره ده؟. او بیا د پاک الله انعاماتو ته خیال وکړئ چه د هغو قدر او عزت څرنگه کاوه شی؟ په حقیقت کښی انسان له حده زیات ناشکره دی.

وَاِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ لَا تُحْصُوْهَا ۗ اِنَّ اللّٰهَ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٨﴾

او که وشمیرئ تاسی نعمتونه د الله (چه پر تاسو ئی پیرزو کړی دی) نو نه به ئی شئ شمیرلی (نو څرنگه به ئی شکر اداء کړی شئ)؟ بیشکه چه الله خامخا ښه ښښونکی (د خطیانو) ډیر رحم والا دی (په انعام د اجر او ثواب سره).

**تفسیر:** یعنی هغه نعمتونه چه پاس ذکر شول له ډیرو څخه لږ شی ؤ ـ نور د الله تعالیٰ دومره نعمتونه دی چه تاسی په هیڅ ډول (طریقه) هغوی نشئ شمیرلی. نو د دغو بیشمارو نعمتونو شکر به پوره ډول (طریقه) سره څرنگه ادا کیدی شی؟ لهٰذا د شکر په اداء کښی کوم قصور چه پیښیږی ـ پاک الله له هغه څخه تیریږی ـ او د لږ شکر په مقابل کښی ډیر اجر تاسی ته اعطاء فرمائی ـ یا دا چه د نعمت د کفران څخه وروسته هر هغه سری چه توبه وکړی او شکر ایستونکی شی ـ الله تعالیٰ د هغه پخوانی تقصیرات ښښی او په مستقبل کښی پری خپل نعمت مبذول فرمائی ـ بلکه د ناشکری په حالت کښی پخپل رحمت واسعه سره هغه بیخی له خپلو مراحمو څخه هم بی برخی او محروم نه گرځوی او په زرهاؤ اقسامو نعماؤ ئی فائضوی.

وَاللّٰهُ يَعۡلَمُ مَا تُسِرُّوۡنَ وَ مَا تُعۡلِنُوۡنَ ﴿١٩﴾

او الله ته معلوم دی هغه (عقائد) چه پټوئ ئی تاسی او هغه (اعمال) چه ښکاروئ ئی تاسی.

**تفسير:** يعنی الله تعالیٰ له ګردو (ټولو) ظاهری او باطنی احوالو څخه هم خبردار دی چه کوم سری د الله تعالیٰ پر نعمتونو تر کومی اندازی پوری له زړه او تر کومی اندازی پوری په خپلو جوارحو (اعضاو) سره شکر وباسی؟ او کوم يو سری داسی دی چه په ظاهر او باطن کښی د نعمت د حق ادا کولو څخه خالی دی؟ يا د پاس مذکوره ؤ دلائلو او نعمتونو له آوريدلو څخه کوم سری له زړه او په رښتيا سره ايمان راوړی؟ او کوم يو داسی دی چه په ظاهر کښی له دلائلو څخه لاجوابه کيږی خو سره له هغه هم حق نه قبلوی؟. د پاک الله په علم کښی د هر چا حال چه هر قسم وی همغسی به ورسره معامله کوی.

وَالَّذِيۡنَ يَدۡعُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ لَا يَخۡلُقُوۡنَ شَيۡـًٔا وَّهُمۡ يُخۡلَقُوۡنَ ﴿٢٠﴾

او هغه (بتان) چه ئی بولی (عبادت ئی کوی دغه کفار) غير له الله نه نشی پيدا کولی دوی هيڅ څيز حال دا چه دوی پخپله (هم) پيدا کاوه شی.

**تفسير:** يعنی الله خو هغه ذات دی چه د هغه د عظيم الشان او غير محصور انعاماتو څه تذکره پاس وشوه. اوس د مشرکانو حماقت ملاحظه کړئ چه د داسی الله عالم الکل او خالق الکل، شريک داسی شيان پيدا کوی چه د وښو د يوه ډکی په پيدا کولو باندی هم قادر نه دی، بلکه پخپله د دوی وجود هم د پاک الله په مشيت او اراده سره پيدا شوی دی.

اَمۡوَاتٌ غَيۡرُ اَحۡيَآءٍ ۚ وَمَا يَشۡعُرُوۡنَ ۙ اَيَّانَ يُبۡعَثُوۡنَ ﴿٢١﴾

(دغه بتان پخپله) مړه دی (روح نه لری) نه دی ژوندی، او (په دی هم) نه پوهيږی دغه (بتان) چه کله به راولاړاوه شی دغه (بتان يا عابدان ئی).

**تفسير:** يعنی ماسواء د الله تعالیٰ څخه د هغو بتانو عبادت چه تاسی کوئ هغه ګرد (ټول) مړه (بی ځانه) دی اعم له دی نه چه دواماً وی لکه بتان يا فی الحال وی لکه هغه بزرګان چه مړه شوی دی او د هغوی طاعت او عبادت کاوه شی يا د انجام او مال په اعتبار مړه وی، لکه حضرت مسيح روح القدس او ملائکة الله عليهم السلام چه د هغو عبادت به هم ځينو فرقو کاوه،

بلکه پیریان او شیطانان (چه ځینی ممسوخ الفطرت د هغوی عبادت هم کوی) پر دغو گردو (تولو) باندی په یوه وقت کښی موت طاری کیدونکی دی. نو د هغه شي وجود چه د بل شي څخه عطاء شوی وی او هغه هر وقت چه وغواړی اخیستی ئی شی، نو هغه ته څرنگه الله ویلی شی؟ او څرنگه د عبادت لائق کیدی شی؟. ﴿ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ ﴾ او په دی نه پوهیږی دغه بتان او دغه بزرگان چه پاس بیان شول چه کله به راولاړاوه شی دوی یا عابدان ئی) یعنی دغه خو عجیب خدایان دی چه له سره نه دی خبر چه قیامت به کله راځی؟ او پخپله دغه معبودان یا د دوی عابدان به کله د حساب او کتاب دپاره بیا ژوندی کیږی؟ دغسی بی ځانه او بی خبره شیانو ته خدای ویل، انتهائی درجه جهل او حماقت دی.

إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۚ فَالَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ قُلُوبُهُم مُّنكِرَةٌ وَهُم مُّسْتَكْبِرُونَ ﴿٢٢﴾

معبود ستاسی معبود یو دی، نو هغه (کسان) چه نه راوړی ایمان په (ژوندانه د) آخرت زړونه د دغو (بی ایمانانو) منکر دی (له وحدانیت د رب العزت او له راتللو د آخرت) او دوی تکبر کوونکی (مغروران) دی ( له ایمان راوړلو نه).

**تفسیر:** یعنی هغه دلائل او شواهد چه پاس بیان شول، داسی صاف او واضح دی چه په هغو کښی له ادنٰی غور کولو سره هر انسان پر توحید یقین کولی شی ـ لیکن ښائی چه غور او طلب هغه څوک وکړی چه ورسره د خپلی خاتمی فکر او د عاقبت ویره وی او هغه چه د بعد **الموت** په امورو باندی له سره یقین نه لری نو د آخری خاتمی په لوری به ئی څه فکر وی؟ هغه **پر دلائلو** کله غوږ ږدی؟ او د کفر او د ایمان د نیک او بد انجام په لوری به کله التفات کوی؟ بیا په زړونو کښی د توحید اقرار او د انبیاؤ علیهم السلام په مخ کښی په تواضع سره د سر ښکته کولو خیال کله د دوی په مغزو کښی گرځی؟.

لَا جَرَمَ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ۚ إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْتَكْبِرِينَ ﴿٢٣﴾

 رښتیا واقعی خبره دا ده بیشکه الله ته معلوم دی هغه (مکر او فریب) چه پټوی ئی دوی او هغه (جنگ او جگړه) چه ښکاره کوی ئی بیشکه چه دغه (الله) نه خوښوی تکبر کوونکی (سر غړوونکی له وحدانیت او رسالت او آخرت).

**تفسیر:** یعنی ښه وپوهیږه چه کبر او غرور او لوئی کوم ښه او غوره شی نه دی او تاسی به د هغه نتیجه هرومرو (خامخا) ګورئ ـ د توحید هغه انکار چه تاسو پخپلو زړونو کښی ساتئ او هغه غرور ـ تکبر او ځانمنمی (خودنمائی) چه تاسی د هغی اظهار پخپلو چارو او اعمالو او افعالو او اطوارو او طریقو سره کوئ دغه ګرد (تول) د الله تعالیٰ په علم کښی دی او هغه به د هر یت او ښکاره جرم سزاء درکوی.

وَإِذَا قِيلَ لَهُم مَّاذَآ أَنزَلَ رَبُّكُمْ ۙ قَالُوٓا۟ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٢٤﴾

او کله چه وویلی شی دغو (متکبرانو) ته څه شی دی هغه چه نازل کړی لیږلی دی رب ستاسی (په محمد باندی) نو وائی دوی (دغه) خوشی افسانی د پخوانیو (خلقو) دی،

**تفسیر:** یعنی که ناواقفه سری د تحقیق په غرض ـ یا واقف سری امتحاناً له دغو مکذبینو څخه پوښتنی کوی، یا دغه مکذبین پخپلو منځونو کښی یو له بله سره د تمسخر او استهزاء په ډول (طریقه) سؤال کوی چه «ووایئ ستاسی رب څه شی نازل کړی دی؟» مطلب ئی دا دی دغه قرآن چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ئی د پاک الله له لوری منزل بولی، ستاسی په نزد څه شی دی؟ او محمد صلی الله علیه وسلم په دغه دعویٰ کښی تر کوم ځای پوری صادق دی؟ نو دوی وائی (معاذالله) په قرآن کښی نور څه شته؟ ماسواء له دی نه چه د پخوانیو کتابونو او پخوانیو ملتونو څه قدیمی بی سنده (د توحید ـ نبوت ـ جنت ـ دوزخ ـ او نوری) خبری (استغفر الله) او څو قصی پکښی نقل شوی دی او نعوذ بالله له سره د پاک الله کلام نه دی.

لِيَحْمِلُوٓا۟ أَوْزَارَهُمْ كَامِلَةً يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۙ وَمِنْ أَوْزَارِ ٱلَّذِينَ يُضِلُّونَهُم بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ أَلَا سَآءَ مَا يَزِرُونَ ﴿٢٥﴾

(نو الله فرمائی دا وینا کوی دوی) دپاره د دی چه په شا واخلی پیتی (د ګناهونو) خپلو پوره په ورځ د قیامت کښی او (هم داسی واخلی) له پیتی (د ګناهونو) د هغو (کسانو) چه ګمراه کړی دی دوی هغوی لره په ناپوهی، واورئ خبردار شئ چه بد دی هغه څیز چه باروی ئی دوی (پر شاؤ خپلو)

**تفسیر:** یعنی له دغی وینا څخه دغه غرض دی چه معاذ الله لوی قرآن بی وقعته او بی اهمیته

ښکاره کړی او خپل نور ملګری هم بی لیاری کړی او په دی دول (طریقه) سره د خپل کفر او ضلال له پوره درانه پیتی سره د هغو خلقو د اضلال، اغواء څه نور بار هم پری بار کړی چه دوی ئی ګمراهان کوی. خیال وکړئ چه دوی د بدی څومره یو دروند بار پخپلو سرونو باندی بار کړی دی؟. په حدیث کښی راغلی دی **«ومن دعی الی ضلالة کان علیه من الاثم مثل آثام من اتبعه لا ینقص ذلک من اثامهم شیئا»** قال الله تعالیٰ
﴿وَلَيَحْمِلُنَّ أَثْقَالَهُمْ وَأَثْقَالًا مَّعَ أَثْقَالِهِمْ وَلَيُسْأَلُنَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَمَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ﴾ (٢٠ جزء د العنکبوت (١٣) آیة اوله رکوع).

---

## قَدْ مَكَرَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَأَتَى اللَّهُ بُنْيَانَهُم مِّنَ الْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ السَّقْفُ مِن فَوْقِهِمْ وَأَتَاهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٦﴾

---

په تحقیق مکر کړی ؤ (له رسولانو سره) هغو (کسانو) چه (تیر شوی) دی پخوا له دوی نه نو راغی (حکم د) الله (په خرابولو او چپه کولو) (د اوچتو) بناګانو د دوی له تاداوونو (د ودانیو د دوی) نو پریوت پر دوی چت (د کوټو د دوی) له پاسه د (سرونو د) دوی او راغی دوی ته عذاب له هغه طرفه چه نه پوهیدل دوی (پری چه له دی طرفه به راځی عذاب).

---

**تفسیر:** یعنی د خلقو ګمراه کولو او د حق د پیغام د شکته کولو او نه رسولو کوم تدابیر چه نن ورځ کیږی، له دوی نه پخوا ړومبنیو اقوامو هم د انبیاؤ علیهم السلام په مقابل کښی هم داسی تدابیر کړی وو ـ هغوی د مکر او تلبیس دیر لوی عمارات درولی وو ـ بیا څه مهال چه د الله تعالیٰ حکم ورسید نو د هغه نیول د دوی بنیادونه هم سره وخوځول ـ بالاخر د الله تعالیٰ په یوه خوځول سره د دوی دغه تیاری شوی مانی او محال پر هم دغو باندی داسی ولویدی چه دوی د هغه تر چت لاندی بند پاتی شول. مطلب دا دی چه د دوی دغه تدابیر پر هم دوی واوښتل او هغه سامان او وسائل چه دوی د خپلی غلبی او حفاظت دپاره تیار کړی وو د دوی د فناء او اهلاک سبب وګرځیدل ـ بلکه د ځینو اقوامو ښارونه او کلی په حسی دول (طریقه) سره هم لاندی باندی کړل شول.

---

## ثُمَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُخْزِيهِمْ وَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَائِيَ الَّذِينَ كُنتُمْ تُشَاقُّونَ فِيهِمْ قَالَ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ إِنَّ الْخِزْيَ

الْيَوْمَ وَالسُّوٓءَ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿٢٧﴾

بیا په ورځ د قیامت کښې به (الله وشرموی) رسوا کړی دوی او وبه فرمائی (الله) چه چیرته دی شریکان ځما (په زعم ستاسی سره) هغه چه وئ تاسی چه مخالفت به مو کاوه (له انبیاؤ او مؤمنانو سره) په باب د دوی کښې وبه وائی هغه کسان چه ورکړی شوی دی دوی ته علم (یعنی ملائک - انبیاء علماء) چه بیشکه خواری د نن ورځې او بدی (یعنی عذاب ئی پر کافرانو دی.

**تفسیر:** یعنی د هغو شرکاؤ په مرسته (مدد) او حمایت چه تاسی تل ځمونږ له انبیاؤ سره جنګ او جګړی کولی، هغوی نن چیری دی؟ او ستاسی د مدد لپاره ولی نه راځی؟.

﴿ هَلْ يَنْصُرُوْنَكُمْ اَوْ يَنْتَصِرُوْنَ ﴾ (١٩ جزء د الشعراء (٩٣ آية (٥) رکوع).

﴿ فَمَا لَهٗ مِنْ قُوَّةٍ وَّلَا نَاصِرٍ ﴾ (٣٠ جزء د الطارق (١٠) آية (١) رکوع). دغسی وینا سره په واقع کښی د هغوی شرمول او رسوا کول مراد دی - یا له رسوائی څخه په جهنم کښی له داخلولو څخه مراد دی. او د دوی د پټو مکاریو پرده لری کول دی.

﴿ اِنَّكَ مَنْ تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ اَخْزَيْتَهٗ ﴾ (٤ جزء د آل عمران ١٩٢ آیت ٢٠ رکوع

﴿ قَالَ الَّذِيْنَ ﴾ الآية - وبه وائی هغه کسان چه ورکړی شوی دی دوی ته علم یعنی ملائک انبیاء - علماء چه بیشکه خواری د نن ورځې او بدی او عذاب ئی پر کافرانو دی.) یعنی هغوی به څه جواب ورکړی شی؟ هو! انبیاء علیهم السلام او نور باخبره خلق به په دغه وقت دغو مکارانو او دغا بازانو ته دغه خبره آوروی چه وګورئ! هغه شیان چه مونږ به ویل همغسی وشو او د نن ورځې ګردی (تولی) خرابی او رسوائی یواځی د حق د منکرینو لپاره دی.

الَّذِيْنَ تَتَوَفّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ظَالِمِيْٓ اَنْفُسِهِمْ ۪ فَاَلْقَوُا السَّلَمَ مَا كُنَّا نَعْمَلُ مِنْ سُوْٓءٍ ؕ بَلٰٓى اِنَّ
اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٢٨﴾ فَادْخُلُوْٓا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ
خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ فَلَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿٢٩﴾

هغه (کافران) چه قبضوی (ارواح د) دوی ملائکی په دی حال کښی چه ظلم کوونکی دی دوی په نفسونو ځانونو خپلو (په کفر سره) نو وړاندی به کړی روغه (اطاعت او وبه وائی) نه وو مونږه چه عمل به مو کاوه د هیڅ قسم بدی (نو وبه فرمائی الله ولی مو نه کاوه درواغ مه وایئ) بلکه کاوه تاسی معصیت بیشکه چه الله ښه عالم دی په هغه څه چه وئ تاسی چه کول به مو (په دنیا

کېښي) (نو وبه ویلی شي دغو ظالمانو ته) چه ننوځئ اوس تاسي په دروازو د
دوزخ کېښي چه همیشه اوسئ په هغه کېښي؛ نو خامخا بد ځای د هستوګنې
د متکبرانو (دا دوزخ دی)

**تفسیر:** یعني کفر او شرک ئې اختیار او پخپل حق کېښي ئې خرابي وکړه، آخر په دغه حالت کېښي د موت پرښتې د دوی د روح وښکلو دپاره راغلې. خلاصه دا چه خاتمه ئې د کفر او شرک په حالت کېښي وشوه العیاذ بالله نو په دغه وقت کېښي به دغه ظلام (وړاندی به کړی روغه او اطاعت او وبه وائي نه وو مونږه چه عمل به مو کاوه د هیڅ قسم بدی) یعني په دغه وقت کېښي به د دوی ګرد (تول) تکبر، لوئي، او ځانمنمي (خودنمائي) لرې شي او له هغو ګردو (تولو) شرارتونو او بغاوتونو څخه چه دوی په دنیا کېښي کول، ځان ناګاره او بیخبره آچوی او تپ تري منکرېږي او د اطاعت او وفاء داري اظهار به کوی او وائي به چه مونږ له سره کوم خراب حرکت نه دی کړی او تل ځمونږ افعال او حرکات ښه ؤ.

﴿يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللَّهُ جَمِيعًا فَيَحْلِفُونَ لَهُ كَمَا يَحْلِفُونَ لَكُمْ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ عَلَىٰ شَيْءٍ ۚ أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ الْكَاذِبُونَ﴾

(٢٨ جزء د المجادله (١٨) آیت دریمه رکوع).

(هر کله چه دغه ظالمان د خپلو ښو کارونو مدعیان شي نو وبه فرمائي الله په تردید د دی ویناوو د دوی چه دروغ مه وایئ! ولی مو نه کاوه معاصي بلکه کاوه تاسي معصیت بیشکه چه الله ښه عالم دی په هغه څه چه وئ تاسي چه کول به مو په دنیا کېښي).

یعني آیا تاسي په درواغ ویلو سره پاک الله غولوئ؟ چه د ده په محیط علم کېښي ستاسي ګرد (تول) حرکات دی نن ستاسي هیڅ یو مکر او فریب د الله تعالیٰ له سزا څخه نه پاتي کیږي، اوس هغه وقت راغلی دی چه تاسي پکښي د خپلو اعمالو خوند وڅکئ!.

وَقِيلَ لِلَّذِينَ اتَّقَوْا مَاذَا أَنزَلَ رَبُّكُمْ ۚ قَالُوا خَيْرًا ۗ لِّلَّذِينَ أَحْسَنُوا فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ ۚ وَلَدَارُ الْآخِرَةِ خَيْرٌ

او وبه ویل شي هغو کسانو ته چه ځان ئې ساتلی له شرکه (او ویرېږي له الله) چه څه شیز دی هغه چه نازل کړی دی رب ستاسي؟ نو وائي دغه (مؤمنان) چه (رالیږلی ئې دی ځمونږ) خیر شته هغو کسانو ته چه نیکي ئې کړی ده (په ایمان راوړلو سره) په دغه دنیا کېښي نیکه جزا (چه عزت او نصرت دی) او خامخا کور د آخرت (جنت) خیر غوره دی (له دنیا او مافیها څخه)؛

**تفسیر:** دغه د مستکبرینو په مقابل کېښي ئې د متقینو (پرهیزګارانو) حال بیان فرمایلی دی چه

کله د هغوی څخه د لوی قرآن په متعلق پوښتنې کیږی چه ستاسی رب څه شی نازل کړی دی؟ نو له نهایتی ښې عقیدی او آدابو به ووائی چه «څمونږ پاک الله داسی نیکه خبره رانازله کړی ده چه له سره تر پایه پوری پکښې خیر او برکت دی» داسی خلقو لره دی معلوم وی چه دوی خورا (ډیر) ښه کار کوی په دنیا کښې به د همغې نیکۍ خوندوره ثمره وررسیږی او د الله تعالیٰ په دربار کښې د هیڅا محنت او د یوی ذری قدر نیکی هم نه ضایع کیږی او خامخا سرای د آخرت (جنت) ډیر غوره خیر دی له دنیا او مافیها نه.

وَلَنِعْمَ دَارُ الْمُتَّقِينَ ﴿٣٠﴾ جَنَّاتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ لَهُمْ فِيهَا مَا يَشَاءُونَ

او خامخا ډیر ښه سرای د پرهیزګارانو دی (دا دار، دغه دار) جنتونه دی د همیشه اوسیدلو چه ننوځی به دوی (په) هغو کښې چه بهیږی به له لاندی (د ونو او مانیو) د دوی (څلور قسمه) ویالی چه وی به (تل) دوی ته په دغو باغونو کښې هر هغه (نعمتونه) چه اراده ئې کوی دوی.

**تفسیر:** یعنی د آخرت د ښیګڼو او نعمتونو پوښتنه څه کوی چه هلته دومره حسنات او نعماء شته چه د هغو د ډیر یو وړوکی نعمت په مقابل کښې د دنیا خورا (ډیر) لوی نعمت هیڅ دی. جنتیان چه هر قسم جسمانی او روحانی مسرت وغواړی، هلته به ور ورسی
﴿ وَفِيهَا مَا تَشْتَهِيهِ الْأَنْفُسُ وَتَلَذُّ الْأَعْيُنُ وَأَنْتُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴾

كَذَٰلِكَ يَجْزِي اللَّهُ الْمُتَّقِينَ ﴿٣١﴾ الَّذِينَ تَتَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ طَيِّبِينَ يَقُولُونَ سَلَامٌ عَلَيْكُمُ ادْخُلُوا الْجَنَّةَ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٣٢﴾

په شان د دغی (جزاء) جزاء ورکوی الله پرهیزګارانو ته. هغه (کسان) چه قبضوی ارواح) د دوی ملائکې په دی حال کښې چه پاک دی دغه (متقین له شرکه او معصیته) وائی به دغه (ملائک دوی ته چه د الله) سلام دی وی پر تاسی باندی ننوځئ! جنت ته په سبب د هغو نیکیو چه وئ تاسو چه عمل به مو کاوه (په دنیا کښې).

**تفسير:** يعني دغو ګردو (تولو) خلقو ته چه له کفره ـ شرکه فسوقه او عصيانه پرهيز کوی هم داسی ښه بدل وررسيږی، د دوی ځانونه د موت تر وقته پوری د کفر او شرک له نجاسته پاک وی او د فسق او فجور له دوړو او ګردونو څخه پاک وی او د الله تعالیٰ د صحيح معرفت او محبت له وجی په ډيره خوښی او انشراح بلکه اشتياق سره خپلی ارواح (سا) هغه روح پيدا کوونکی ته ورسپاری (او د ځنکدن او روح سپارلو په وقت کښی به وائی دغه ملائک دوی لره چه سلام دی وی پر تاسی ننوځئ جنت ته تاسی په سبب د هغو نيکيو چه وئ تاسو چه عمل به مو کاوه په دنيا کښی) له يوه حيثيته په روحانی ډول (طريقه) انسان وروسته له مرګه سم د لاسه په جنت يا دوزخ کښی داخليږی ـ هو! له جسمانی حيثيته په پوره ډول (طريقه) انسان وروسته له حشره داخل کيږی. ممکن دی په دغه زيری کښی د دخول دواړو قسمونو ته اشاره وی.
يعنی ستاسی عمل د جنت د ننوتلو عادی سبب دی ـ باقی حقيقی سبب د الله تعالیٰ حقيقی رحمت دی لکه چه په حديث کښی راغلی دی «**الا ان يتغمدنی الله برحمته**»

---

هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن تَأْتِيَهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ أَوْ يَأْتِىَ أَمْرُ رَبِّكَ ۚ

---

آيا انتظار کوی دغه (کفار بلکه نه کوی د هيڅ څيز) مګر د دی چه راشی دوی ته ملائکی (د عذاب دپاره د قبض الروح) يا راشی ورته امر (حکم، عذاب) د رب ستا (دپاره د اهلاک د دوی).

---

**تفسير:** د جنت د محاسنو او د هغه د تفوق او امتياز له بيانولو څخه وروسته دغو غافلينو ته تنبيه ورکوله کيږی چه تش پر دنيوی سامانونو مست او بيخوده کيږی او آخرت بيخی هيروی او د خپل انجام په اصلاح او تعديل کښی هيڅ فکر او غور نه کوی. يعنی دغه خلق د دی خبری په انتظار کښی دی څه مهال چه پرښتی د دوی د روح قبضولو دپاره راشی، يا د الله تعالیٰ له حکمه سره موافق قيامت قائم شی ـ يا د مجرمينو د جزا ورکولو حکم ور ورسيږی او په موچنو او پڼو د دوی سر وواهله شی نو هلته به ايمان راوړی او خپل حال به اصلاح کړی ـ حال دا چه د هغه وقت ايمان يا توبه او رجوع به له سره نافع نه وی ـ بهتر خو دا دی چه پخوا له موته د بعد الموت لپاره تياری وشی او پخوا د عذاب له راتګه (راتلو) د نجات تدبير وشی.

---

كَذَٰلِكَ فَعَلَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ وَمَا ظَلَمَهُمُ
ٱللَّهُ وَلَٰكِن كَانُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٣٣﴾ فَأَصَابَهُمْ سَيِّـَٔاتُ
مَا عَمِلُوا۟ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٣٤﴾

په شان د دغی (کفر او تکذیب) کړی ؤ (شرک او تکذیب) هغو کسانو چه پخوا له دوی تیر شوی وو (پس رسیدلي ؤ دوی ته هغه شی چه رسیدلی ؤ هغوی ته) او نه ؤ ظلم کړی پر دوی الله (په اهلاک سره) ولیکن وو دوی چه په نفسونو (ځانونو) خپلو باندی ئی ظلم کاوه په کفر او معاصیو). نو ورسیده دوی ته جزاء د هغو بدیو چه کړی وو دوی او احاطه وکړ (چاپیر شو) پر دوی هغه (موعود عذاب) چه وو دوی چه په هغه (عذاب پوری) به ئی مسخری کولی.

**تفسیر:** پخوانی معاندین هم د هم داسی غرور او غفلت په نشو کښی لویدلی وو، او په باطل خوښولو کښی بوخت (مشغول) او لګیا وو، او تمادی ئی پکښی کوله، او د توبی په وقت کښی ئی توبه ونه ایستله، او تر آخره پوری د انبیاؤ علیهم السلام پر تکذیب او مخالفت ټینګ ولاړ وو، او د هغوی پر خبرو به ئی خندل او مسخری به ئی کولی بالاخر څه ئی چه کړی وو، همغه ئی په مخه کښی ورغلل ـ او جزاء ئی وموندله، هغه عذاب او نور شیان چه دوی پری مسخری کولی، پخپلو سترګو ئی ولیدل، د دوی هغه مسخری او خندا معکوساً (الته) پر هم دوی واقع شوی، او هیڅ یوه د تیښتی لیاره ئی ونه موندله چه پری چیری وتښتی ـ او د خپلو شرارتونو او سرکښیو سزا ئی وموندله ـ او هغه ئی ورییل چه کرلی یی وو ـ پاک الله له دوی سره معاذ الله څه دښمنی او عداوت نه درلوده (لرلو)، او نه د پاک الله په نسبت (استغفر الله) د ظلم او تعدی تصور کیدی شی، او نه امکان لری دغه خلق پخپلو لاسونو خپلی پښی په تبر وهی، دوی بل هیچا ته هیڅ نقصان نه رسوی.

وَقَالَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا لَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا عَبَدْنَا مِن دُونِهِ مِن شَيْءٍ نَّحْنُ وَلَا آبَاؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِن دُونِهِ مِن شَيْءٍ

او وویل هغو کسانو چه شرک ئی اختیار کړی وو که اراده فرمایلی وی الله نو عبادت به نه وو کړی مونږ غیر له دغه (الله) د هیڅ څیز، (نه) مونږه او نه پلرونو ځمونږ او نه به حرام کړی وو مونږ بی له حکمه د دغه (الله) هیڅ څیز.

**تفسیر:** له دی ځایه وروسته د هغو باطلو اعذارو او چټی (بیکاره) او مهملو خبرو او دلائلو تردید شروع کیږی چه مشرکینو هغه د خپل شرک او مشرکانه اعمالو د جواز او استحسان د

تثبیت (ثابتولو) لپاره وړاندی کول خلاصه ئی دا ده که د غیرالله عبادت یا د ځینو حیواناتو (لکه بحیره ـ سائبه او نور) حرامول داسی بد او بی سنده خبری او چاری وی چه بیخی پاک الله نه خوښولی، نو الله به مونږ نه پریښودو چه ئی وکړو او هر کله چه مونږ د الله تعالیٰ له مرضی څخه مخالف کار کاوه نو خامخا به پاک الله مونږ له هغه څخه منع کولو ـ یا به ئی مونږ ژر تر ژره په سزاء رسولو ـ کله چه داسی نه کیږی، نو دغه د دی خبری دلیل دی چه دغه چاری د الله تعالیٰ خوښی دی د الانعام په ١٤٨ آیت (١٨) رکوع د ﴿سَيَقُولُ الَّذِينَ أَشْرَكُوا لَوْ شَاءَ اللَّهُ﴾ الآیة ـ تر آیت لاندی څمونږ د دغه مبارک تفسیر کوم تقریر چه مونږ کړی دی، په هغه کښی د مشرکینو دغه شبهه او د هغو مفصل جواب بیان شوی دی، ښائی چه هغه دی بیا هلته ولوست شی.

كَذَٰلِكَ فَعَلَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ فَهَلْ عَلَى الرُّسُلِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ ﴿٣٥﴾

په مثل د دغه (عمل د دوی) کړی وو هغو کسانو چه پخوا له دوی (تیر شوی) وو، نو آیا شته پر رسولانو (بلکه نشته پری هیڅ) مگر رسونه ښکاره (چه سمه صافه لیاره خلقو ته وروښیی).

**تفسیر:** یعنی د مشرکینو دغه وینا غلطه ده چه څمونږ دغه اعمال د الله تعالیٰ له لوری نه دی ممنوع شوی، ځکه چه د خلقت له ابتداء څخه تر نن ورځی پوری له ضرورت او مصلحت سره موافق پاک الله انبیاء علیهم السلام لیږلی دی چه د هغوی کار او وظیفه هم دغه وه چه خلق له شرکیه ؤ اعمالو او له شرک او کفر څخه منع کړی او په ښکاره او صاف ډول (طریقه) سره اعلان وکړی چه کوم کوم اعمال د پاک الله خوښ او پری رضاء دی؟ کوم کوم افعال ئی نه دی خوښ؟ او له دوی ځنی به د هر یوه انجام څرنگه وی؟ باقی دغه خبره چه خلق یی ولی په تکوینی ډول (طریقه) مجبور ونه گرځول چه له سره ئی د بدی لیاره نشوی اختیارولی؟ نو دغه خبره د الله تعالیٰ له حکمته سره منافی وه لکه چه مونږ دغه خبره په متعددو مواضعو کښی لیکلی ده، پاتی شوه دغه خبره هر هغه څوک چه د انبیاؤ خبری ونه منی، ښائی چه هغه ته سم د لاسه سزا ورکړه شی نو ډیرو اقوامو ته په دنیا کښی سختی عبرتناکی سزاوی هم ورکړی شوی دی لکه چه په پخوانی آیت کښی مذکور دی. هو! عقلاً او نقلاً دغه خبره ضروری نه ده چه د جرم له ارتکاب سره فوراً سزا ورکړه شی او مجرم ته د یوی شیبی (ساعت) دپاره هم مهلت ورنه کړ شی، او نه ورته د توبی او اصلاح دپاره کومه موقع او فرصت ورکړ شی. حضرت شاه صاحب لیکی «دغه د ناپوهانو خبری دی چه دغه کار که الله نه خوښوی، نو ولی مونږ د هغه کولو ته پریږدی؟ آخر د هری فرقی په نزد ځینی کارونه خراب وی، نو دوی ئی ولی پریږدی چه واقع

شی» (آیا الله د هغه له منع کولو څخه عاجز دی بلکه قادر دی) دلته ئی مجمل جواب وفرمایه چه تل رسولانو ممانعت کړی دی ـ د هر چا په قسمت کښی چه هدایت ؤ هغه ئی ومونډ، او هر هغه چه خرابیدونکی ؤ، خراب شو- الله تعالیٰ ته هم دغه منظور دی (چه انسان ته فی الجمله د کسب او اختیار قوت ورکړی او آزاد (خپلواک) ئی پریږدی او د لوتو او تیږو (ګټو) په شان ئی مجبور، یا د حیواناتو غوندی ئی د عمل دائره محدوده نه کړی ـ بلکه په هر طرف کښی د پر مخ تګ او ترقی موقع ورته ورکړی.

وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ فَمِنْهُم مَّنْ هَدَى اللَّهُ وَمِنْهُم مَّنْ حَقَّتْ عَلَيْهِ الضَّلَالَةُ فَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ ﴿٣٦﴾

او خامخا په تحقیق لیږلی (پورته کړی) وو مونږ په هر (پخوانی) امت کښی یو رسول (چه ووائی دوی ته) چه عبادت کوئ (یوائحی) د الله او ځان ساتئ تاسی له شریرانو (باطلو معبودانو) څخه نو ځینی له دوی هغه وو چه ورته هدایت وکړ (لیاره وروښوده) الله او ځینی د دوی هغه وو چه ثابته شوه پری ګمراهی (نو قبول ئی نه کړل احکام د رسولانو) نو وګرځئ تاسی په ځمکه کښی (ای مشرکانو!) نو وګورئ په نظر د عبرت سره) چه څرنګه ؤ (عاقبت آخره خاتمه) د دروغجن کوونکو (د انبیاؤ؟).

**تفسیر:** یعنی پخپل وقت کښی مو په هر امت او قوم پخوانیو کښی یو رسول مبعوث کړی دی بیا په آخر کښی ئی رسول الثقلین، سیدالکونین صلی الله تعالیٰ علیه وعلیٰ آله وصحبه اجمعین رامبعوث کړ.

**تنبیه:** له دغه آیت څخه دا نه لازمیږی چه په هر قوم او هر کلی کښی دی بلاواسطه یو رسول لیږلی شوی وی، کیدی شی چه یو نبی په یو قوم کښی مبعوث کړی شی او د ده نائب چه ورته «هادی» او «نذیر» ویلی شی په نورو اقوامو کښی ولیږلی شی ـ د هغه ورلیږل ګواکی بالواسطه د هغه رسول لیږل دی والله اعلم. «طاغوت» شریر فتنه اچوونکی فساد خوښوونکی، د حضرت شاه صاحب په وینا «هغه دی چه په ناحقه سره د سرداری او مشرتوب دعوی وکړی او هغه هیڅ یو سند ئی په لاس کښی نه وی نو داسی سری ته «طاغوت» وائی بت، شیطان، لوی ظالم ګرد (تول) په دغه کښی داخل دی.»

إِنْ تَحْرِصْ عَلٰى هُدٰىهُمْ فَإِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِىْ مَنْ يُّضِلُّ وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿٣٧﴾

که ته ډیر حرص وکړی (ای محمده!) پر هدایت (لیار ښوونه) د دوی نو بیشکه چه الله نه ښیی لیاره (د هدایت) هغه چاته چه گمراه کوی (ئی) او نه به وی دغو گمراهانو ته هیڅ له مددگارانو (مانع له عذابه د نیران).

**تفسیر:** یعنی پاک الله هر هغه څوک چه د قصور د استعداد یا د بد اختیاری په بناء گمراه (بی لیاری) کړی وی، هغه ته هیڅوک د هدایت لیاره نشی ښودلی او نه ئی هیڅوک د الله تعالیٰ له سزاء څخه ژغورلی (بچ کولی) شی - ستاسی دغه ډیره طمعه او زیات حرص هم د دوی د هدایت په نسبت، هیڅ فائده نشی رسولی، نو بیا تاسی د دوی په فکر او غم کښی ولی دومره زیات خپل ځان کړوئ؟ او ولی خپل سر دومره زیات ورپسی گرځوئ؟.

وَأَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَا يَبْعَثُ اللّٰهُ مَنْ يَّمُوْتُ ط بَلٰى وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا وَّلٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٣٨﴾

او قسمونه کوی دوی پر الله په سختو غلیظو قسمونو خپلو چه بیا به نه کړی ژوندی الله هغه څوک چه (یو ځلی) مړ شی، (الله فرمائی په تردید د دوی کښی چه ولی به ئی ژوندی نه کړی) بلکه ژوندی به ئی کړی (ځکه چه وعده ئی کړی ده) په داسی وعده کولو چه لازمه ده پری (وفا ئی تفضلاً وعده) حقه ولیکن ډیر د خلقو نه پوهیږی (په دغه بعث بعد الموت).

**تفسیر:** یعنی قسمونه خوری کفار چه پس له مرگه بل ژوندون نشته، بیا نو له عذابه څه ویره ده؟ د دوی دغه گردی (تولی) بابیزه (داگی) خبری او تیرایستل دی. ځکه چه د کفارو او مشرکانو له دغه انکاره او د قیاسی او خیالی قسم خوړلو څخه د الله تعالیٰ هغه پخه وعده له سره وړاندی او وروسته کیدی نشی او هغه به هرومرو (خامخا) پوره کیږی خو تاسی د داسی ثابته حقائقو له انکاره د خپل د جهل ثبوت وړاندی کوئ لـ هر هغه سړی چه د الله تعالیٰ د محیط علم او د قدرت او حکمت او د تکوین له رازه او د ده د غرض او غایت څخه خبردار وی، هغه له سره د «**بعث بعد الموت**» څخه انکار نشی کولی. «**الناس اعداء ما جهلوا**»

(او دغه بیا وروسته له مړ کولو څخه بیا ژوندی کول)

لِيُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِي يَخْتَلِفُونَ فِيهِ وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّهُمْ كَانُوا كَاذِبِينَ ﴿٣٩﴾

دپاره د دی دی چه بیان (او ښکاره) کړی الله دوی ته هغه (حشر او نشر) چه جګړی کوی دوی په هغه کښی او (بل) د دی لپاره دی چه پوه شی هغه کسان چه کافران شوی دی (په دی خبره چه) بیشکه دوی وو دروغجنان (په دی انکار کښی له قیامته).

**تفسیر:** یعنی د معاد (قیامت) راتګ عین حکمت دی که وروسته له مرګه بل ژوندون نه وی نو په دنیا کښی هغه مختلف اعمال او احوال، چه موندلی شی د هغو صاف او مکمل نتائج به څرنګه ظاهریږی؟ـ د دغه ځای د جګړو قاطعه فیصله خو هم هغلته کیږی او هلته به منکرینو ته معلوم شی چه د هغو خبرو انکار چه په قسمونو سره دوی کاوه، هغه بیخی صحیح او رښتیا وی، او قسم خوړونکی دروغجنان وو حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «یعنی په دغه جهان کښی د ډیرو خبرو په نسبت شبهه پاتی ده، ځینی کسان الله تعالیٰ منی او ځینی تری منکران دی نو د بل جهان وجود لازمی دی چه د ګردو (تولو) جګړو تحقیق پکښی وشی او رښتینی له دروغجن څخه بیل شی او مطیع او منکر د خپل عمل بدل ومومی»

إِنَّمَا قَوْلُنَا لِشَيْءٍ إِذَا أَرَدْنَاهُ أَنْ نَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ ﴿٤٠﴾

بیشکه هم دا خبره ده چه خبره ځمونږ کوم شیز ته کله چه اراده وکړو (د پیدا کولو) د هغه دا ده چه ووایو هغه ته چه (پیدا) شه نو (پیدا) شی (نو د مړو بیا ژوندی کول هغه ته څه مشکل دی).

**تفسیر:** یعنی له دی نه مقصد یواځی هم دغومره خبره ده چه د الله تعالیٰ له ارادی څخه د یوی ثانیی دپاره هم د مراد تخلف نشی کیدی او د ارادی څخه وروسته په نهایت سرعت او سهولت سره د مراد واقع کیدل او د بل هیڅ یو مانع او عائق مزاحمت نه کول او نه توانیدل، په ځان سره د دغی جملی خلاصه ده.

وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا فِي اللّٰهِ مِنْ بَعْدِ مَا ظُلِمُوْا لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً ۖ وَلَاَجْرُ الْاٰخِرَةِ اَكْبَرُ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿٤١﴾ الَّذِيْنَ صَبَرُوْا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ﴿٤٢﴾

او هغه کسان چه هجرت ئی کړی دی په (لیاره د) الله کښې وروسته له هغه چه ظلم پرې وکړې شو نو خامخا ځای به ورکړو مونږ دوی ته په دنیا کښې ښه (ځای) او خامخا اجر (بدل) ثواب د آخرت ډیر لوی دی. که وی دغه (کفار) چه پوهیدی (په ثواب د هجرت نو دوی به هم ورسره موافقت کړی وی په ایمان یا) که وی دغه (مهاجرین) چه پوهیدی (پخپل هغه لوی اجر نو لا ډیر کوښښ او صبر به ئی کاوه). (او مهاجرین) هغه کسان دی چه صبر ئی کړی دی (په طاعت او په مصیبته) او خاص پر رب خپل توکل کوی.

**تفسیر:** یعنی د مجازاتو د سلسلی (د طاعت او د معصیت د پوره نتیجی اظهار) دپاره «**بعث بعد الموت**» ضروری دی ـ د الله تعالیٰ ښه وفادار بندګان چه په دغی دنیا کښې ډیر مصائب او شدائد تیروی او بیا مری نو آیا د دوی دغه قربانی ضایع کیدی شي؟ له سره به نه ضائع کیږی! هغه چه د حق حمایت وکړ او د الله تعالیٰ رضاء ئی وغوښته او د ظالمانو د ظلم او ستم په انواعو ئی صبر او حوصله وکړه ـ تر دی حده پوری چه مجبوراً خپل کور خپلوان ـ کهول دوستان ـ عزت آشنایان ـ راحت او ګرد (تول) شیان ئی د الله تعالیٰ په لیاره کښې پریښودل نو دوی ته به د هغوی د محنت او وفاداری ـ صله یقیناً وررسیږی اول هغه کسان چه له دوی ځنی ژوندی پاتی کیږی نو په هم دغی دنیا کښې د خپلو قربانیو لږ څه ثمره مومی او خوند ئی څکی. یعنی خپل کور کهول پریښوونکو ته د هستوګنی نور ډیر ښه ځای ورکاوه کیږی، له هغه کوره ښه کور، له وطني ورونو څخه ډیر مهربانه خواخوږی نور ورونه ـ له روزی څخه ئی بهتره روزی ـ له عزته ئی ښه عزت وررسیږی بلکه پر هغو خلقو غالب کیږی چه دوی ئی له وطنه ایستلی دی او پر دنیا باندی به ئی حاکم او د متقیانو به مشر او امام ګرځی. بیا وروسته له دی نه هغه لوړ مقامات او عظیم الشان مدارج چه په آخرت کښې ور په برخه کیږی، دومره زیات دی چه د هغه اندازه له سره امکان نه لری که د اخروی اجر او ثواب پوره باور او یقین نورو خلقو ته هم پیدا شی نو هغوی به هم (چه اوس د هجرت له سعادته محروم دی) خپل ګرد (تول) کور کهول پریږدی او د الله تعالیٰ په هم دغه لیاره به درومی او تول به د هجرت دپاره تیاریږی.

**تنبیه:** د آیت پر عمومو الفاظو مونږ نظر اچولی دغه تقریر مو وکړ (**و هو منقول في روح**

**المعاني عن بعضهم)** عامو مفسرينو دغه آيت د هغو اتياؤ اصحابو رضی الله تعالیٰ عنهم اجمعين په حق کښې ايښې دی چه د مکی معظمی د کفارو له ظلم او تيری څخه په تنګ شوی وو او پرومبی ئی د **(حبشستان)** په لوری هجرت کړی وو ـ ځکه چه د اکثرو په نزد دغه آيت مکی دی چه د منوری مدينی له هجرته څخه پخوا نازل شوی دی. دغو مهاجرينو ته بالاخر پاک الله د هستوګنی ډير ښه ځای په (مدينی منوری) کښې ورکړ رضی الله عنهم و رضوا عنه!.

﴿ الَّذِينَ صَبَرُوا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴾ مهاجرين هغه کسان دی چه صبر ئی کړی دی په طاعت او په مصيبت او له معصيته او خاص پر رب خپل باندی توکل او اعتماد کوی. يا آفرين دی وی پر هغو مهاجرينو باندی چه صبر يی کړی دی په طاعت او په مصيبت او له معصيته او خاص پر رب خپل باندی توکل او اعتماد کوی). يعنی له هيڅ راز (قسم) ظلم او تيری څخه ونه ويريدل او د محبوب وطن او د ګرانو خپلوانو او اقاربو د بيلتانه پروا ئی ونه کړه او د الله تعالیٰ د خوښی او رضاء له لياری څخه ونه ښوئيدل او له ګردو (تولو) څخه ئی وشکاوه او خپله علاقه ئی يواځی له پاک الله سره ونښلوله او خالص د الله پر امداد او قاطعه ؤ مواعيدو ئی اعتماد وکړ ـ تر هغه پوری چه وئی ليد، هر څوک چه خپل ځان پاک الله ته سپاری، نو پاک الله به څرنګه پری خپل لطف او کرم نه مبذولوی؟.

وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا نُّوحِي إِلَيْهِمْ ۚ فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٤٣﴾ بِالْبَيِّنَاتِ وَالزُّبُرِ ۗ وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٤٤﴾

او نه ؤ ليږلی مونږ پخوا له تانه (ای محمده) مګر سړی (ستا په شان له انسانانو) چه وحی به کوله مونږ دوی ته نو پوښتنه وکړئ تاسی له اهل الذکر (خاوندانو د ياد يعنی له علماؤ او پوهانو يا له اهل الکتاب نه) که يئ تاسی چه نه پوهيږئ (ليږلی وو مونږ دغه رسولان) په ښکاره ؤ معجزو او په کتابونو سره او نازل کړی دی مونږ تاته ذکر قرآن (يو) لپاره د دی چه بيان کړی ته خلقو ته هغه چه نازل شوی دی (په دی قرآن کښې) دوی ته او (بل دپاره د دی) چه ښائيری دوی فکر او غور وکړی (پکښې چه دغه کلام الله دی).

**تفسير:** يعنی د انبياؤ الله عليهم السلام مظلومانو ملګريو ته چه د صبر او توکل په لياره ثابت قدم وی په دواړو دارينو کښې بری او کومک ورکول ځمونږ کوم نوی عادت نه دی. پخوا له دی نه هم مونږ په پخوانيو انسانانو کښې رسولان ليږلی دی چه د هغو کار دا ؤ چه د الله تعالیٰ له

احکامو او د نیکی او بدی له انجامو خلق خبردار کړی ـ اوس که تاسی ته دغه خبره نه ده معلومه، نو له هغو پوهانو څخه چه د پخوانیو امتونو پر حالاتو او د هغوی د انبیاؤ پر تاریخی معاملاتو علم لرونکی دی، تحقیقات وکړئ! چه آیا په رښتیا سره په تیرو پیریو کښی څه مقدس انسانان د نبوت پر لوی منصب فایض شوی دی؟ او سره له بیناتو (معجزاتو) او زبرو (کتابونو) مبعوث شوی دی؟ که نه؟ او دغه چه آیا د هغو د مصدقینو او مکذبینو خاتمه او انجام څرنګه شوی دی؟ او اهل الحق د صبر او توکل په برکت څرنګه منصور او کامیاب شوی دی؟ او ظالمان معاندان وروسته د حجت له اتمامه څنګه پنا شوی دی؟

﴿ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ الْحُسْنَىٰ عَلَىٰ بَنِي إِسْرَائِيلَ بِمَا صَبَرُوا ۖ وَدَمَّرْنَا مَا كَانَ يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهُ وَمَا كَانُوا يَعْرِشُونَ ﴾ جزء (٩) (د الاعراف ١٣٧ آیت (١٦) رکوع) مونږ له ﴿ أَهْلَ الذِّكْرِ ﴾ څخه خاص اهل الکتاب نه دی مراد کړی، بلکه د لفظ د عموم رعایت مو کړی دی چه په هغه کښی اهل الکتاب هم شامل دی. په روح المعانی کښی مسطور دی **قال الرمانی والزجاج والازهری المراد باهل الذکر علماء اخبار الامم السالفة کائناً من کان ـ فالذکر بمعنی الحفظ** محقق محمود الحسن شیخ الهند **رحمة الله علیه** هم د **«اهل الذکر»** ترجمه د یاد په خاوندانو کړی ده ـ او ښائی چه په هغه سره ئی دی لوری ته اشاره کړی وی. په هر حال د آیت له عموم څخه دغه مسئله وځی چه غیر د اهل العلم ته ښائی چه له اهل الذکر څخه پوښتنه وکړی او د هغوی په وینا برابر کار وکړی اکثر علماء دغه د ائمه ؤ په تقلید کښی وړاندی کوی والله تعالیٰ اعلم.

﴿ بِالْبَيِّنَاتِ وَالزُّبُرِ ﴾ دا رسولان لیږلی وو مونږ په ښکارو معجزو او په اوراقو کتابونو سره) یعنی معجزات او هغه علوم چه په اوراقو کښی لیکلی کیږی.

﴿ وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ ﴾ الآیة ـ او نازل کړی دی مونږ تاته ذکر قرآن یو دپاره د دی) چه بیان کړی ته ای محمده صلی الله علیه وسلم! خلقو ته هغه چه نازل شوی دی دوی ته ـ او بل دپاره د دی چه ښائیږی دوی فکر او غور وکړی پکښی چه دغه کلام الله دی) یعنی د رسول الله کار د قرآن احکام په ښکاره او واضح دول (طریقه) بیانول دی او د خلقو کار دا دی چه په همغه کښی غور او فکر وکړی. له ذکر څخه قرآن عظیم مراد دی چه پخوانیو امتونو د ضروریه ؤ احوالو او شرائعو محافظ او د پخوانیو انبیاؤ د علومو جامع او د تل له پاره د الله تعالیٰ د احکامو او د دارینو د فلاح د طریقو باور کوونکی او د غفلت له خوبه ویښوونکی دی. مطلب ئی داسی شو «همغسی چه پخوا له دی نه رسولان لیږلی شوی دی او کتابونه نازل شوی دی نن تاته هم (ای محمد صلی الله علیه وسلم) مونږ هم داسی کتاب درلیږلی دی چه د ګردو (تولو) پخوانیو کتابونو خلاصه او د سابقینو انبیاؤ علیهم السلام د علومو مکمل یاداشت دی ـ ستاسی کار دا دی چه د دنیا ګردو (تولو) خلقو ته د دی کتاب تول مضامین په صاف او ښکاره دول (طریقه) بیان کړئ! او د هغه د مشکلاتو شرح او د مجملاتو تفصیل وفرمایئ» له دی نه معلوم شو چه د پاک قرآن همغه تاویل معتبر دی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له احادیثو سره موافق دی.

أَفَأَمِنَ الَّذِينَ مَكَرُوا السَّيِّئَاتِ أَن يَخْسِفَ اللَّهُ بِهِمُ الْأَرْضَ أَوْ يَأْتِيَهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٤٥﴾

آيا نو په امن کښې شوی دی هغه کسان چه مکرونه ئی کړی دی ناکاره، له دی نه چه ډوب به کړی الله دوی په ځمکه یا چه را به شی دوی ته عذاب له داسی طرفه چه نه پوهیږی دوی (پری چه له دی طرفه راځی).

**تفسیر:** یعنی د پخوانیو انبیاؤ او د دوی د امتونو د احوالو د آوریدلو او د قرآن عظیم الشان په شان د داسی مکمل ذکر او یاداشت د رسیدلو څخه وروسته هم آیا د مکی معظمی کافران د حق په مقابل کښې د خپلو مکاریو او فریبونو او دغابازیو نه مخ نه ګرځوی؟ آیا د دی خبری امکان نشته چه الله تعالیٰ دوی د (قارون) په شان په ځمکه کښې ډوب کړی ـ یا له داسی یو جانب څخه کوم آفت پری ولیږی چه د دوی په وهم او ګمان کښې هم نه وی لکه چه د «بدر» په غزوه کښې کفارو ته د مسلمانانو له لاسه داسی سزا ورسیده؛ چه دوی خپل قوت او جمعیت او د مسلمانانو د ضعف او قلت په ملحوظ د هغه تصور هم نه وو کړی.

أَوْ يَأْخُذَهُمْ فِي تَقَلُّبِهِمْ فَمَا هُم بِمُعْجِزِينَ ﴿٤٦﴾

یا له دی چه ونیسی (الله) دوی لره په وقت د ګرځیدلو د دوی (په ځمکه کښې نو نه دی دوی عاجز کوونکی (د الله).

**تفسیر:** یعنی د دی خبری هیڅ ضرورت نشته چه له پخوا څخه څه اهتمام وکړی شی ـ یا د مقابلی دپاره څه افواج ولیږلی شی ـ پاک الله پر دغه هم قادر دی چه تاسی په تګ راتګ او په کاروبار کښې یا پخپلو بسترو په وقت د اوښتلو له یوه اړخ څخه بل اړخ ته، یو ځلی ونیسی او بالکل مو عاجز او ناتوانه کړی ـ الله هر قسم قوت او قدرت لری او تاسی په هر ډول (طریقه) عاجزولی شی او په تاسی کښې د دی خبری توان نشته چه پاک الله عاجز او ناتوان کړئ.

أَوْ يَأْخُذَهُمْ عَلَىٰ تَخَوُّفٍ

یا (له دی) چه ونیسی (الله) دوی لره پر ویره (او ویرول په ورو ورو تنقیص سره)؛

**تفسیر:** یعنی یو ناڅاپه به ئی وانخلی ـ بلکه له خبرولو ښخه وروسته او د عذابونو د مبادیو د لیږلو ښخه پسته په داسی یو حالت کښی ئی نیسی چه خلق پری خبر او تری اطلاع وموبی او د عذابونو آثار وګوری او طبعاً وویریږی. یا د شاؤ خوا نور خلق، په سماویه ؤ عذابونو کښی اخته وګوری او په ویره کښی وی لیکن دغه خوف محض طبیعی وی او د توبی او ندامت سره نه وی چه د عذاب دافع کیدی شی ـ ځینو د «تخوف» معنی «تنقص» اخیستی ده ـ چه ورو ورو کمول دی ـ یعنی دغه هم ممکن دی چه دفعتاً ئی هلاک نه کړی او ورو ورو تاسی کموی او تیتوی مو.

فَإِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿٤٧﴾

نو بیشکه رب ستاسی خامخا ښه مهربان دی (پر بندګانو) ښه رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره)

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ هر شی کولی شی ـ مګر ولی ئی نه کوی؟ د ده نرمی او مهربانی مانع ده چه پر مجرمینو یو ناڅاپه عذاب نازل کړی. د الله تعالیٰ رأفت او رحمت مقتضی دی چه مجرمینو ته مهلت او د اصلاح موقع ورکړه شی ـ یا خو دغه جمله یواځی له ﴿ يَأْخُذَهُمْ عَلَىٰ تَخَوُّفٍ ﴾ سره متعلقه ده ـ په هغه تقدیر سره چه ﴿ تَخَوُّفٍ ﴾ د تنقص په معنی واخیست شی ـ نو مطلب به ئی دا شی چه ورو، ورو کمول او دفعتاً ئی نه هلاکول، د الله تعالیٰ د رحمت او شفقت له سببه دی، که نه په یوه آن کښی ئی هم ښا او خراب او تباه کولی شی.

أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَىٰ مَا خَلَقَ اللَّهُ مِن شَيْءٍ يَتَفَيَّأُ ظِلَالُهُ عَنِ الْيَمِينِ وَالشَّمَائِلِ سُجَّدًا لِّلَّهِ وَهُمْ دَاخِرُونَ ﴿٤٨﴾

آیا نه ګوری دوی هغه ته چه پیدا کړی دی الله له کومه شیزه چه ګرځی سیوری د هغه له ښی طرفونو او کیڼ طرفونو (یعنی له هر طرفه) ښخه په دی حال کښی چه سجده کوونکی دی (دغه سیوری) الله ته حال دا چه دغه سیوری عاجزی کوونکی دی الله ته.

**تفسیر:** یعنی کله چه په تکوینی ډول (طریقه) هر شی د پاک الله په مخ کښی عاجز ـ مطیع او منقاد دی، تر دی چه د سایه دارو شیانو سیوری هم د الله د حکم او د قدرت له قانون سره سم

اوریدیږي او لنديږي او په دې لورې او په هغه لورې ځي راځي، نو بيا د داسي قدرت والا الله د عذاب مخه کوم يو قوت او طاقت نيولی شي؟ هر انسان لره ښائي چه په خپل واک او اختيار د الله تعالیٰ د تشريعي احکامو په مقابل کښې غاړه کيږدي. حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليکي «هر شي په غرمه کښې برابر ولاړ وي او د هغوی سيوري هم ولاړ وي ـ کله چه لمر واوړي نو سيوري هم ورسره اوړي بيا پسې په اوږديدو اوږديدو له ځمکې سره سم شي ـ لکه چه په لمانځه کښې له قيامه سرې رکوع ته او له رکوع څخه سجدې ته ځي، هم داسي هر شي پخپله ولاړ وي او په خپل سيوري سره لمونځ کوي ـ په هر ملک کښې او په هر موسم کښې کله ښي خوا ته او کله کيڼ خوا ته اوږديږي».

وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ مِنْ دَآبَّةٍ وَّالْمَلٰٓئِكَةُ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿٤٩﴾

او خاص الله ته سجده کوي هغه شيان چه په آسمانونو کښې دي او هغه شيان چه په ځمکه کښې دي له ګرځيدونکو (تلونکو په ځمکه کښې) او ملائکې حال دا چه دوی نه کوي کبر (لوئی سرکښي د الله تعالیٰ له عبادته).

**تفسير:** اول د هغو ولاړو شيانو ذکر وشو چه سيوري لرونکي وو، دلته اوس د عمومو ذوی الارواحو بالخصوص د پرښتو د سجدې په بيان تنبيه فرمائي چه داسي مقرب او معظم ذوات هم د ده په مخ کښې سر په سجده دي او هيڅ قسم تکبر، غرور او لوئي په دې کښې نه کوي چه د خپل الله تعالیٰ په مخ کښې د عجز او نياز سجده ږدي. حضرت شاه صاحب ليکي «مغرورو خلقو ته سر کيښودل پر ځمکه ډير سخت او مشکل ښکاري او نه پوهيږي چه د بنده لوئي فقط په هم دغه سجده کښې ده. «**من تواضع لله رفعه الله**»

يَخَافُوْنَ رَبَّهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ ﴿٥٠﴾ السجدة

ويريږي دا(ملائک) له رب خپل (چه اعلیٰ دي پر دوی په قهر او غلبه) له پاسه د دوی او کوي دوی هغه (کار) چه امر (حکم) ورته کاوه شي.

**تفسير:** يعني پرښتي سره له دومره قربه او وجاهته د خپل الله تعالیٰ له لوئي او له جلاله ويريږي او هر هغه حکم چه دوی ته ورکولی کيږي هغه علی الفور اجرا کوي په «**موضح القرآن**» کښي راغلي دي «د هر بنده په زړه کښي دغه خبره شته چه ځما د سر له پاسه الله تعالیٰ دی او خپل

ځان شکته ګڼي هم دغه د پرښتو سجده هم ده او د نورو تولو هم.»

وَقَالَ اللّٰهُ لَا تَتَّخِذُوْٓا اِلٰهَيْنِ اثْنَيْنِ اِنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ فَاِيَّايَ فَارْهَبُوْنِ ﴿٥١﴾

او فرمايلي دي الله مه نيسئ تاسي معبودان دوه بيشکه هم دا خبره ده چه دغه (برحق معبود) معبود دی يو، نو خاص له ما څخه پس وويريږئ تاسي راڅخه.

**تفسير:** يعنې کله چه ګرد (تول) د آسمانونو او د ځمکو مخلوق د يوه الله جل وعلا په حضور کښي په تکويني دول (طريقه) بې اختياره سر په سجود او تول ورته عاجز او مقهور دي نو بيا په عبادت کښي ئې بل شريک له کومه پيدا شو؟ هغه پاک الله چه د ګرد (تول) جهان مالک او مطاع دی ښائي چه يواځې د همغه عبادت وکړی شي او خاص د همغه څخه خوف او ويره په کار ده.

وَلَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلَهُ الدِّيْنُ وَاصِبًا ؕ اَفَغَيْرَ اللّٰهِ تَتَّقُوْنَ ﴿٥٢﴾

او خاص هم دغه (الله) لره دي هر هغه څه چه په آسمانونو کښي دي او (هر هغه څه چه په) ځمکه کښي دي (له علوياتو او سفلياتو سره له آسمانونو او ځمکو ملکاً، خلقاً، عبيداً) او خاص هم ده ته دي طاعت (عبادت عدل) واجب لازم هميشه؛ نو آيا غير له الله څخه ويريږئ تاسي (له بل چا).

**تفسير:** يعنې په تکويني دول (طريقه) هر شيز خاص د الله تعالىٰ په اطاعت او عبادت مجبور دی ﴿ اَفَغَيْرَ دِيْنِ اللّٰهِ يَبْغُوْنَ وَلَهٗٓ اَسْلَمَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ طَوْعًا وَّكَرْهًا وَّاِلَيْهِ يُرْجَعُوْنَ ﴾ (٣ جزء د آل عمران ٨٣ آيت ٩ رکوع) يا دغه مطلب دی چه تل د الله تعالىٰ عبادت لازم دی ﴿ اَلَا لِلّٰهِ الدِّيْنُ الْخَالِصُ ﴾ (٢٣ جزء د الزمر ٣ آيت ١ رکوع) او ځينې د «**دين**» معنی په «**جزاء**» سره اخيستي ده يعنې د نيک او بد دائمي بدل د همغه يوه الله تعالىٰ له جانبه رارسيږي (نو د بل چا څخه به ولي ويريږو) والله اعلم

وَمَا بِكُم مِّن نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللَّهِ ثُمَّ إِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فَإِلَيْهِ تَجْأَرُونَ ﴿٥٣﴾

او هر هغه چه تاسي سره دی له (کوم قسم) نعمت نو له (طرفه د) الله دی بیا کله چه ورسیږی تاسی ته ضرر نو خاص هم دغه (الله) ته فریاد او زاری کوئ.

**تفسير:** یعنی ګردی (تولی) ښیګنی (فایدی) او نعمتونه د همغه له لوری دی او د هر یوی بدی او سختی دفع هم د همغه په واک (اختیار) او قبضه کښی ده ـ لکه چه کوم مصیبت کوم یوه انسان ته ورسیږی نو له غلیظ څخه غلیظ مشرک هم په دغه وقت کښی له نورو ګردو (تولو) وسیلو څخه لاس وباسی او یواځی د پاک الله په دربار کښی دعاء کوی او تری مدد غواړی، ګواکی انسانی فطرت شاهدی ورکوی چه د مصائبو او سختیو څخه نجات ورکول ماسوا له دی نه چه د پاک الله واحد کار وی، د بل هیچا کار نه شی کیدی، بیا د هغه ذات په قبضه کښی چه هر قسم ضرر او نفع ـ نقمت (عذاب) او نعمت (چه پټ وی یا ښکاره ـ وړوکی وی یا لوی ـ دینی وی یا دنیوی علمی وی یا عملی ـ داخلی وی یا خارجی ـ جلبی وی یا سلبی او هر قسم نقمت او ضرر لکه مرض یا ناداری قحط یا غلاؤ حرق یا غرق او نور د ده په اختیار کښی) دی نو بل به څوک د ده په الوهیت کښی حصه دار کیدی شی؟ یا به داسی کیدی شی چه انسان تری وویریږی ـ یا څه هیله (امید) او اسره ورڅخه ولری.

ثُمَّ إِذَا كَشَفَ الضُّرَّ عَنكُمْ إِذَا فَرِيقٌ مِّنكُم بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُونَ ﴿٥٤﴾ لِيَكْفُرُوا بِمَا آتَيْنَاهُمْ فَتَمَتَّعُوا فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٥٥﴾

بیا هر کله چه دفع (لری) کړی (الله هغه) ضرر له تاسی څخه ناڅاپه یوه فرقه له تاسی له رب خپله سره شریکوی (بل) دپاره د دی چه کفران (ناقدری) وکړی په هغه څیز پوری چه ورکړی دی مونږ دوی ته؛ نو نفع واخلئ (ای منکرینو دنیوی نفع موقتاً). نو ژر به پوه شئ تاسی (په عاقبت د کار خپل).

**تفسير:** یعنی څه مهال چه تری سختی پورته شی نو خپل منعم حقیقی هیروی او په نهایت بیحیائی او بی شرمی د الوهیت د چارو په ویشلو پسی لویږی او له دی نه نه شرمیږی چه اوس لږ څه د مخه د عجز او نیاز په حالت کښی د همغه په دربار کښی مو عرض او دعاء کوله نه یی د

حقیقي محسن احسان ومانه او نه ئې د دغې اندیښنه وکړله ـ چه زه به د ناشکرۍ په سزاء کښې ونیول شم ـ یا لږ تر لږه د نعمت کفران به د نعمت د سلب موجب وګرځي، ګواکې هغه انعام چه وحده لا شریک له الله تعالیٰ فرمایلي ؤ بیخي د هغه په انکار باندې تینګ ودرید. بهتر دی چه ځو ورځې هغوی ته مهلت ورکړ شي چه په دغه دنیا کښې ښې مزې وکړي او خوندونه ئې وڅکي ـ بالاخر به دوی ته معلومیږي چه د دغه مشرکیت او د نعمت د کفران سخته سزا ورته څرنګه ورکوله شي.

---

وَيَجْعَلُونَ لِمَا لَا يَعْلَمُونَ نَصِيبًا مِّمَّا رَزَقْنَاهُمْ تَاللَّهِ لَتُسْأَلُنَّ عَمَّا كُنتُمْ تَفْتَرُونَ ﴿٥٦﴾

---

او مقرروي دا (کفار) دپاره د هغو (بتانو) چه په هیڅ نه پوهیږي (علم نه لري) یوه برخه له ځینو د هغو شخه چه ورکړي دي مونږ دوی ته، قسم دی په الله چه خامخا پوښتیدلی به شئ تاسي هرومرو (خامخا) (په قیامت کښې) له هغه چه یئ تاسي چه دروغ تړئ (چه بتان مو خدایان دي).

---

**تفسیر:** دغه ئې هغو ته وفرمایل چه په خپل کښت او کار کښې ـ په تجارت او صنعت کښې ـ په مالدارۍ او جهاندارۍ کښې ماسواء له الله شخه د نورو دپاره نذر او نیاز مني (موضح القرآن) لکه چه د عربو د مشرکانو رواج او دستور ؤ چه د هغه ذکر (په ۸ جزء) د «الانعام» په (١٦) رکوع کښې تیر شو. له ﴿ لِمَا لَا يَعْلَمُونَ ﴾ شخه مراد همغه اصنام او نور دي چه مشرکینو دغه بتان له خپله جهالته او بیخبرۍ ـ خپل معبودان یا د نفعي او ضرر مالکان ګڼل ـ حال دا چه د هغه هیڅ یو دلیل او سند د دوی سره نه ؤ ـ بیا دغه شرکاء ئې هم د دبرو (ګټو) له بتانو ځنې تجویز کړل چه له هر قسم علم او شعور شخه بې برخې دي ﴿ إِنَّ هَٰذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ ﴾
﴿ تَاللَّهِ لَتُسْأَلُنَّ عَمَّا كُنتُمْ تَفْتَرُونَ ﴾ ـ قسم دی په الله چه خامخا به وپوښتلی شئ له هغه دروغو چه تاسو ویل) یعني په قیامت کښې به د دغه افتراء او د دروغو تړلو پوښتنه هرومرو (خامخا) له تاسي شخه کیږي ـ چه د الله تعالیٰ په ورکړي مال کښې مو شه حق درلود (لرلو) چه نور مو پکښې شریک او سهیم ګرځول؟ باقي چاته د ثواب رسولو مسئله، هغه خو بیله خبره ده او د دی آیت په ذیل کښې نه راځي.

---

وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ الْبَنَاتِ سُبْحَانَهُ وَلَهُم مَّا يَشْتَهُونَ ﴿٥٧﴾

---

او مقرروي (دا کفار) الله ته لوڼې پاک دی دغه (الله له ولده او له شریکه) او

(مقرروی) ځان ته هغه څیز چه د دوی خوښ وی.

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ له دغه پاک او منزه دی چه اولاد ورته ثابت کړی شی بیا په تیره لونی تعجب دی چه دغه خلق د حق تعالیٰ په نسبت څرنګه جراءت کوی، په دغه آیت کښی د«بنو خزاعه» او د «کنانه» د قبیلو رد وشو ـ چه پرښتو ته ئی د الله تعالیٰ لونی ویل (العیاذ بالله)

وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُمْ بِالْأُنْثَىٰ ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ ﴿٥٨﴾

او کله چه خبر ورکړی شی یو تن د دغو (کفارو) ته په (پیدا کیدو د) لور سره نو (تول ورځ) وګرځی مخ د ده تک تور له غمه حال دا چه دی ډک وی له قهره (خپلی ښځی ته چه لور دی ولی راوړه ؟).

**تفسیر:** یعنی د خپلو ځانونو دپاره د لونو په پیدا کیدلو خوښ او راضی نه دی هر کله چه غواړی ځامن غواړی.

يَتَوَارَىٰ مِنَ الْقَوْمِ مِنْ سُوءِ مَا بُشِّرَ بِهِ ۚ أَيُمْسِكُهُ عَلَىٰ هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُ فِي التُّرَابِ ۗ

پټ ګرځی له قومه (خپله) له سببه د ناخوښی د هغه شی څخه چه خبر ورکړی شوی دی (ده ته) په هغه سره، آیا وساتی (دی) هغه لور سره د سپکوالی او که ئی ومندی (ژوندی) په خاوره کښی)؟

**تفسیر:** له دوی ځنی که کوم یوه ته خبر ورکړی شی چه تا کره لور شوی ده نو له ډیر نفرت او غم او اندیښنی څخه ئی وچولی (تندی) تریو شی او ګرده (توله) ورځ له ډیره خفګانه په نظر په بله بنه (شکل) راځی او زړه ئی پخسیږی چه دغه د نه ویلو غبار او مصیبت له کومه رابانده راغی؟

﴿ أَيُمْسِكُهُ عَلَىٰ هُونٍ ﴾ الآیة ـ آیا دی وساتی هغه لور سره د سپکوالی؟) یعنی له دغه رسمی او عرفی ننګ او عار له تصوره چه که دغه لور می ژوندی راپاتی شی نو بل څوک به می ځوم کیږی نو زه په هغه وقت کښی چاته خپل مخ ښوولی شم؟ او چیری به پټ ګرځم؟.

﴿ أَمْ يَدُسُّهُ فِي التُّرَابِ ﴾ الآیة ـ او که ئی ومندی ژوندی په خاوره کښی) یعنی شپه او ورځ په فکر او تردد کښی مصروف او تجاویز جوړوی چه آیا زه دغه دنیوی عار قبول او دغه جینۍ

پريږدم چه ژوندون وکړی؟ یا ئی په ځمکه کښی خښه کړم؟ یعنی وئی وژنم ـ لکه چه د جاهلیت په زمانه کښی ډیر غټ زړه او ظالم سړی به خپلی جینکۍ وژلی یا به ئی ژوندی په ځمکه کښی خښولی ـ کله چه اسلامی دین منتشر شو نو دغه قبیح رسم ئی له منځه ورک کړ ـ او په داسی دول (طریقه) ئی سره قلع او قمع وکړه ـ چه وروسته له اسلامه په ګرد (تول) ملک کښی د دغی بی رحمی یوه پیښه او مثال هم ورانډی نه شو ځینی د ﴿ اَیُمۡسِکُهٗ عَلٰی هُوۡنٍ ﴾ معنی داسی کړی «بندیانی ساتی جینکۍ په ذلت او خواری سره» یعنی د ژوندی پاتی کیدلو په صورت داسی ذلیله معامله به ئی له دوی سره کوله لکه چه ئی له سره اولاد بلکه انسان هم نه وی.

---

اَلَا سَآءَ مَا يَحۡكُمُوۡنَ ﴿٥٩﴾

---

واورئ خبردار شئ چه بد دی هغه چه حکم کوی دغه (کفار چه نسبت د عیوبو دی الله ته).

---

**تفسیر:** د جینکو په متعلق هغه د ظلم او تیری فیصله چه د دغو کفارو ده له هغه ځنی زیاته بده فیصله دغه ده چه الله تعالیٰ ته ئی د اولاد تجویز کاوه، بیا اولاد هم «**اناث**» چه له هغو شخه دوی پخپله کرکه او تنفر کاوه، ګواکی دوی د خپلو ځانونو دپاره ښه شیان او الله تعالیٰ ته ئی ناقص شیان مخصوصول (العیاذ بالله)

---

لِلَّذِيۡنَ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ بِالۡاٰخِرَةِ مَثَلُ السَّوۡءِ ۚ وَلِلّٰهِ الۡمَثَلُ الۡاَعۡلٰى ؕ وَهُوَ الۡعَزِيۡزُ الۡحَكِيۡمُ ﴿٦٠﴾

---

دی هغه کسانو ته چه نه راوړی ایمان په (ورځ د) آخرت مثال (صفت) بد (ناکاره)، او خاص الله لره دی مثال (صفت لوی) لوړ، او هم دی دی قوی غالب (په انفاذ د احکامو) حکمت والا (چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی).

---

**تفسیر:** یعنی هغه مشرکین چه د خپلو ظلمونو او ګستاخیو او سپین سترګیو په بد انجام باور نه لری، خراب مثال یا خراب صفت د هم دوی دی. هم دوی اولاد ته اړ (مجبور) او محتاج دی چه د درد ـ رنځ ـ او د ضعیفی په وقت کښی په ښه او په کار ئی ورشی ـ دوی لره په کار دی چه له خپلو ځامنو شخه مدد او مرسته (امداد) وغواړی، د عار یا د افلاس یا د نورو ویرو په وجی د جونو وژل د دوی دود او دستور دی ـ بالاخر دوی د ظلم او شرک او د نورو د هغه بد

انجام څخه چه مقرر دی له سره ځان نشي ژغورلی (محفوظولی). الغرض هر ډول (طريقه) بد مثالونه او نقص او عيب نسبت ښائی چه د هم دوی په طرف وکړی شي ـ د الله تعالیٰ په طرف د دغو صفاتو انتساب چه د مخلوقاتو خاصه ده او (معاذالله) د ځامنو او د لونو د تجويز ډير حقير او سپک مثالونه ورکول د پاک الله له عظيم او رفيع شان سره منافي دی، د الله تعالیٰ دپاره خو هغه مثالونه او صفتونه ثابتيدی شي چه له اعلیٰ څخه اعلیٰ او له هر لوړ او لوی شي څخه لوړ او لوی وی.

﴿وَهُوَالْعَزِيزُالْحَكِيمُ﴾ او هم دی دی قوی، غالب په انفاذ د احکامو ښه حکمت والا) يعني پاک الله خو داسي غالب او زبردست ذات دی چه ستاسی د دی بی ادبی او سپين سترګی سزا لاس په لاس او ژر تر ژره هم درکولی شي ليکن ځکه علی الفور تاسی ته سزا نه درکوی چه د ده د حکمت سره مناسب نه ده، نو تاسی ته مهلت او وار درکوی، څو په سمه ليياره راشئ او د اصلاح او توبی رويه ځان ته غوره او خپله رويه سمه کړئ.

وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللَّهُ النَّاسَ بِظُلْمِهِم مَّا تَرَكَ عَلَيْهَا مِن دَابَّةٍ وَلَٰكِن يُؤَخِّرُهُمْ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى ۖ فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً ۖ وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٦١﴾

او که نيولی وی الله (دا) خلق په ظلم (کفر او معاصيو) د دوی سره نو نه به ئی ؤ پری ايښی پر مخ د دی ځمکی کښی هيڅ خوځيدونکی (تلونکی) وليکن وروستی کوی دوی تر هغه نيتی په نامه کړی شوی پوری نو کله چه راغی نيته (د موت يا عذاب) د دوی نه به وروسته کيږی (دوی له هغه نيتی څخه) (په قدر د) يو ساعت او نه (تری) ړومبی کيږی.

**تفسير:** يعنی که الله تعالیٰ خلقو ته د دوی پر ګستاخی ـ تيروتو او د ظلم د سزا ورکولو شروع وکړی، نو په څو ساعتو کښی د ځمکی د مخ دغه نظم او نسق او ودانی نشی پاتی کيدی ځکه چه په دنيا کښی لويه برخه د ظالمانو او بد کارانو ده او د وړو او لږو خطاؤ څخه خو هيڅ يو تن هم تش نه دی (کلکم خطاءون) کله چه ګرد (تول) خطا کاران او بدان هلاک کړل شی، نو يواځی د معصومو انبياؤ د مبعوثيت او د دوی د اعزام ضرورت د ځمکی په طرف نه پاتی کيږی بلکه د دوی هستوګنه د معصومو ملائکو سره زياته موزونه ده. کله چه نيکان او بدان دواړه پر ځمکه نشی پاتی، نو د نورو حيواناتو وجود به هم بی فائدی وی ـ ځکه چه هغه ګرد (تول) د انسانانو دپاره پيدا شوی دی او هم ئی فرض کړئ چه الله تعالیٰ د انسانانو په ظلم او عدوان

باران بند کړ نو آیا له انسانانو سره به حیوانات هم نه مري؟ په هر حال که پاک الله پر هره هره خبره په هم دغې دنیا هر یو ونیسي او سم د لاسه سزا ورکړي ـ نو د دغې دنیا ګرده (توله) سلسله به سره وشلیږي او په څو دقیقو (شیبو) کښې به دغه دنیا پنا شي. مګر مجرمینو ته د توبې او اصلاح وار او موقع ورکوي او تر موعوده وقته پورې ئې خوشې پرېږدي ـ او مهلت او وار ورته ورکوي ـ کله چه هغه تاکلې (مقرر کړې) نیټې ته ورسیږي ـ نو بیا هغه یوه ثانیه (ربه) نه وراندې او نه وروسته کیدې شي.

**تنبیه:** ځینې مفسرین له ﴿ مَّا تَرَكَ عَلَيْهَا مِن دَآبَّةٍ ﴾ څخه خاص ظالمه دابه مرادوي ـ که دغه صحیح وي، نو مطلب بیخي واضح دی او هیڅ اشکال نه دی پاتي. والله اعلم.

---

وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ مَا يَكْرَهُونَ وَتَصِفُ أَلْسِنَتُهُمُ الْكَذِبَ أَنَّ لَهُمُ الْحُسْنَىٰ ۖ لَا جَرَمَ أَنَّ لَهُمُ النَّارَ وَأَنَّهُم مُّفْرَطُونَ ﴿٦٢﴾

---

او ثابتوي دا (کفار) الله ته هغه چه بد ئې ګڼي (دوی خپلو ځانونو لره لکه لوڼې یا شریکان) او بیانوي ژبې د دوی دروغ (چه داسې وائي) بیشکه شته دوی ته ښه حالت (په نزد د الله کښې)؛ حقه رښتیا (ثابته خبره دا ده) چه بیشکه شته دوی ته اور(د دوزخ) او بیشکه دغه (کفار په منده بیولی شي بیا هلته په اور کښې پرېښودلی شي.

---

**تفسیر:** یعني هغه شیان چه دوی ئې بد ګڼي او د خپلو ځانونو دپاره ئې نه غوره کوي لکه جینکۍ ـ یا په خپل ملک کښې د کوم پردي شرکت یا استهزاء یا استخفاف او نورې سپکې معاملې نو هغه د الله قدوس (جلت عظمته) دپاره ثابتوي.

﴿ وَتَصِفُ أَلْسِنَتُهُمُ الْكَذِبَ أَنَّ لَهُمُ الْحُسْنَىٰ ﴾ او بیانوي ژبې د دغو مشرکانو دروغ چه داسې وائي بیشکه شته دوی ته ښه حالت په نزد د الله کښې) یعني سره له داسې ګستاخیو او سپین سترګیو د دوی پر ژبو دغه دعوی ده چه مونږ په دنیا کښې د ښو ښو شیانو ور (مستحق) او لایق یو او که د آخرت او د نورو دغه قصې رښتیا وي، نو هلته به هم ښې مزې کوو لکه چه په ۲۵ جزء د حٰم السجده په (۵۰) آیت (٦) رکوع کښې داسې یو آیت شته

﴿ وَلَئِنْ أَذَقْنَاهُ رَحْمَةً مِّنَّا مِن بَعْدِ ضَرَّاءَ مَسَّتْهُ لَيَقُولَنَّ هَٰذَا لِي وَمَا أَظُنُّ السَّاعَةَ قَائِمَةً وَلَئِن رُّجِعْتُ إِلَىٰ رَبِّي إِنَّ لِي عِندَهُ لَلْحُسْنَىٰ ﴾

﴿ لَا جَرَمَ أَنَّ لَهُمُ النَّارَ وَأَنَّهُم مُّفْرَطُونَ ﴾ حقه رښتیا خبره دا ده چه بیشکه شته دوی ته اور د دوزخ الخ) یعني سره له داسې ګستاخیو هسې باطلې آرزوګانې لرل د دې خبرې دلیل دی چه د هغوی دپاره هیڅ یوه ښیګڼه (فائده) او نیکي نشته، هو! د دوی دپاره د دوزخ اور تیار دی

چه دوی ورته په مندو بیولی او ځغلولی شی او کله چه هلته ورسیږی او پکښی ولویږی، نو ګواکی بیخی هیر شوی دی یعنی تر ابدالاباد پوری هیڅکله د مهربانی نظر به پر دوی نه کیږی حضرت شاه صاحب لیکی دا ئی د هغوی په نسبت وفرمایه چه ناکاره شیان د پاک الله په نامه کوی او سره له هغه داسی یقین هم لری چه مونږ جنت ته هم ځو حال دا چه دوی ورځ په ورځ دوزخ ته ورنژدی کیږی نو فرمائی الله تعالیٰ لپاره د تسلی د رسول الله صلی الله علیه وسلم

تَاللّٰهِ لَقَدْ اَرْسَلْنَآ اِلٰٓى اُمَمٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ فَهُوَ وَلِيُّهُمُ الْيَوْمَ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٦٣﴾

قسم دی په الله په تحقیق لیږلی وو مونږ په طرف د امتونو پخوا له تا څخه (ای محمده نور رسولان) نو ښائسته کړی ؤ دغو (امتونو) ته شیطان هغه (بد) عملونه د دوی (چه کلک پری ولاړ ؤ) نو همغه (شیطان) دوست د دوی دی نن ورځ او شته (په آخرت کښی) دوی ته عذاب دردناک.

**تفسیر:** د مکی معظمی د کفارو د ګستاخیو او چتی (بیکاره) دعاویو د ذکر څخه وروسته محمد علیه الصلوٰة والسلام ته تسلی ورکوی چه تاسی د دوی له دغو حرکاتو څخه مه خپه او مه زړه تنګی شئ! مونږ له تاسی څخه د مخه هم د مختلفو امتونو په طرف انبیاء لیږلی ؤ۔ لیکن تل هم داسی پیښه واقع شوی ده چه لعین شیطان دغو مکذبینو ته د دوی بد عمل ښه ورښرګند (ورښکاره) کړی دی او دوی به پرله پسی پخپلو شرارتونو کښی پر مخ تګ او ترقی کوله او نن هغوی د الله تعالیٰ په عذاب کښی اخته او ککړ دی او شیطان چه د دوی رفیق او ملګری ؤ هیڅ د دوی په ښه او کار ورنغی ۔ او نه ئی په داد او فریاد ورسیدی شی ۔ هم دغسی به ستاسی د مکذبینو انجام هم کیږی. ځینی د ﴿ فَهُوَ وَلِيُّهُمُ الْيَوْمَ ﴾ مطلب داسی ښکاره وی هغه شیطان چه پخوانی امتونه د ده په لمسون ګمراه او بی لاری شوی وو همغه نن د دغو (کفارو د مکی) ملګری شوی هم دی، نو همغسی چه د هغوی حال او خاتمه شوی ده د دوی حال او خاتمه هم کیږی.

وَمَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ اِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِى اخْتَلَفُوْا فِيْهِ ۙ وَهُدًى وَّرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٦٤﴾

او نه دی نازل کړی (رالیږلی) مونږ پر تا دغه کتاب (قرآن) مګر دپاره د دی چه بیان (او ښکاره) کړی ته (ای محمده!) دوی ته هغه (څیز) چه اختلاف کړی دی دغو (خلقو) په هغه کښی او (لپاره د) هدایت او (لپاره) د رحمت دپاره (د هغه) قوم چه ایمان لری (په تولو مؤمن به شیانو).

**تفسیر:** یعنی لوی قرآن یوائحی د دی لپاره نازل کړی شوی دی چه د هغو اساسی او رښتیا اصولو بیان په ډیر وضاحت او تحقیق سره وکړی چه خلق پکښی اختلاف او جګړی کوی (مثلاً توحید معاد د حلالو او حرامو احکام) او نور چه هیڅ اشکال او خفاء پکښی پاتی نشی ـ ګواکی نبی کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم د دغه لوی قرآن په وسیله د ګردو (تولو) منازعو او جګړو سمه او صافه فیصله آورولی ده ـ او د الله تعالیٰ پر بندګانو ئی د الله تعالیٰ حجت تمام کړی دی ـ وروسته له دی نه د دوی منل او نه منل ـ پخپله د مخاطبینو کار دی، هر څوک چه توفیق وموهی قبلوی به ئی. تاسی ته نه ښائی چه پر دوی پسی خپل ځان خفه یا پریشان کړئ!
﴿ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴾ او لپاره د هدایت او لپاره د رحمت دپاره د هغه قوم چه ایمان لری) یعنی فیصله او بیان خو د ګردو (تولو) دپاره دی، لیکن د دی هدایت څخه منتفع کیدل ـ او د الله تعالیٰ د رحمت سره غاړه په غاړه کیدل ـ د همغه چا په برخه کیږی چه دغه فیصله د زړه په صدق سره تسلیموی ـ او په طوع او رغبت سره په تولو مؤمن به شیانو ایمان راوړی.

وَاللَّهُ أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً لِقَوْمٍ يَسْمَعُونَ ﴿٦٥﴾

او الله نازلی کړی (لیږلی) دی له (طرفه) د آسمانه اوبه (باران) نو ژوندی (شنه) ئی کړه په دی (اوبو) سره ځمکه وروسته له مرګه (وچوالی) د هغی (ځمکی)؛ بیشکه په دغه (زرغونتیا) کښی پس له وچوالی خامخا دلیل (ښکاره د قدرت) دی دپاره (د هغه) قوم چه آوری (د الله احکام د زړه په غوږونو او په انصاف سره بیا عبرت هم تری اخلی).

**تفسیر:** یعنی وچه ځمکه په آسمانی باران سره زرغونوی ګواکی وچوالی د ځمکی موت او شین توب او خروپ توب ئی ژوندون او حیات دی
﴿ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً لِقَوْمٍ يَسْمَعُونَ ﴾ بیشکه په دغه زرغونتیا کښی پس له وچوالی خامخا دلیل ښکاره د قدرت دی دپاره د هغه قوم چه آوری احکام د الله د زړه په غوږونو په انصاف سره او

بیا عبرت هم ترې آخلې) یعنې هم داسې د قرآن په وسیله جاهلان ـ عالمان او مړ زړونه ژوندي
کوي که ئې د زړه په توجه او انصاف سره واوري.

وَإِنَّ لَكُمْ فِي الْأَنْعَامِ لَعِبْرَةً نُّسْقِيكُم مِّمَّا فِي بُطُونِهِ مِن بَيْنِ فَرْثٍ وَدَمٍ
لَّبَنًا خَالِصًا سَائِغًا لِّلشَّارِبِينَ ﴿٦٦﴾

او بیشکه چه دی تاسې ته په چارپایانو کښې ډیر لوی عبرت؛ چه درڅښوو
مونږ تاسې ته له هغه ځینو شیزونو څخه چه دي په ګیډو د هغو (لنګو څاروو
کښې) له منځه د غوشائیو او د وینو شودې صافي پاکې (له رنګه او بویه د
غوشائیو او وینو) آسان تیریدونکې (له حلقه او خوش مزه) دپاره د څښونکو.

**تفسیر:** یعنې اوښه ـ غوا ـ میښه او نور حیوانات چه بوس، پروړ او واښه خوري نو دغه خواړه
کله چه د دوی په ګیډو کښې لویږي د درو شیانو په طرف مستحیل کیږي ـ قدرت د دغو
حیواناتو د اجسامو په منځ کښې داسې یو مشین لګولې دی چه د غذا د ځینو اجزاؤ د تحلیل
کولو څخه وروسته د فضلې (پچې او غوشائې) په شکل د باندې ئې غورځوي ـ او له ځینو اجزاؤ
څخه وینه پیدا کوي او په رګونو کښې ئې خپروي (خوروي) چه د دوی د حیات او بقاء سبب
ګرځي ـ له هم دغې مادې څخه چه ځینې ئې وینه ګرځیدلې ده، د دغو دوو ګنده ؤ شیانو په
منځ کښې یو دریم شی (چه شوده دي) هم تیاروي چه نهایت پاک طیب سپیځلی او خوندور شی
دی.
پخوا ئې د کتاب د نزول په مناسبت د اوبو د ښکته کولو ذکر وفرمایه په دغه آیات کښې د
اوبو په مناسبت د نورو مشروباتو د انواعو ذکر هم وفرمایه ـ یعنې شوده ـ شراب نبیذ او شات ـ
په ٢٦ جزء د محمد صلی الله علیه وسلم د سورت په (١٥) آیت ٢ رکوع کښې چه هلته د جنت
د ویالو ذکر راغلی دی د مشروباتو هم دغه څلور اقسام ذکر شوي دي
﴿ فِيهَا أَنْهَارٌ مِّن مَّاءٍ غَيْرِ آسِنٍ وَأَنْهَارٌ مِّن لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهُ وَأَنْهَارٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشَّارِبِينَ وَأَنْهَارٌ مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى ﴾
دلته د دغو اقسامو د شیانو له ذکره مقصود دا دی چه د خلقو په خیال کښې هغه چه
ډیر لوی لوی نعمتونه دي هغه ګرد (تول) د پاک الله پیدا او مخلوق دي بیا نو د تعجب ځای دی
چه انسانان د خپل حقیقي منعم دغه مراحم او احسان ولې هیروي او د نورو شیانو خادمان او
مریان کیږي. ګواکې د شرک د تردید په لوري اشاره وشوه. او دا هم ترې راښکاره شوه چه هغه
الله تعالیٰ چه په دغه ډول (طریقه) سره ستاسې د جسماني هوسائې (آسانې) دپاره راز راز
(قسم قسم) انتظامات او مناسب وسائل او سامان پیدا کړي دي نو هرومرو (خامخا) د روحاني
ژوندون او د باطني ترقي وسائل او ذرایع به هم په کافي اندازه سره تیار او مهیا کړي وي.

وَمِنْ ثَمَرٰتِ النَّخِيْلِ وَالْاَعْنَابِ تَتَّخِذُوْنَ مِنْهُ سَكَرًا وَّرِزْقًا حَسَنًا ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیَةً لِّقَوْمٍ یَّعْقِلُوْنَ ﴿۶۷﴾

او له میوو د خرماګانو او (له میوو د) د تاکو (کورو) څخه (هم داسی در ښبوو مونږ پر تاسی) چه جوړوئ تاسی له دغو میوو څخه نشه کوونکی (بد) او رزق (روزی) ښه؛ بیشکه په دغو (انواعو د میوو او مشتقاتو) کښی (ئی) خامخا دلیل (ښکاره د قدرت) دی لپاره د (هغه) قوم چه عقل چلوی او فکر او غور په کښی کوی.

**تفسیر:** یعنی له دغو میوو څخه نشه ئی باسئ - او د خوړلو او ښبلو نور ښه او عمده شیان تری جوړوئ لکه شربت - نبیذ - سرکه او وچه خرما او مویز او نور تری حاصلوئ.

**تنبیه:** دغه آیت مکی دی - د شرابو ښبل په مکه معظمه کښی لا نه ؤ حرام شوی - او شراب ښبونکی به هغه بلا تکلفه ښبل - د شرابو ښبل وروسته له هجرته حرام شو - بیا هیڅ یو مسلمان له سره لاس نه دی ور وړی - خو بیا په هم دغه مکی آیت کښی ئی هم د ﴿ سَكَرًا ﴾ څخه وروسته د ﴿ وَّرِزْقًا حَسَنًا ﴾ فرمایلو سره تنبیه فرمایلی ده چه وروسته له دی نه شراب حرام کیدونکی دی، ځکه چه پر شرابو د «**رزق حسن**» اطلاق نه دی موزون.

﴿ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیَةً لِّقَوْمٍ یَّعْقِلُوْنَ ﴾ بیشکه په دغو انواعو د میوو او مشتقاتو کښی ئی خامخا دلیل ښکاره د قدرت دی لپاره د هغه قوم چه عقل چلوی او غور او فکر پکښی کوی.) دلته د ﴿ یَّعْقِلُوْنَ ﴾ لفظ چه د عقل څخه مشتق دی د «**سکر**» له تذکری سره خاص مناسبت لری، کله چه نشه عقل زائل کوی، نو ځکه ئی اشاره وفرمایله چه د آیاتونو پوهیدل د عقلاؤ کار دی. او د نشه ښبوونکو او مستانو کار نه دی.

وَاَوْحٰی رَبُّكَ اِلَی النَّحْلِ اَنِ اتَّخِذِیْ مِنَ الْجِبَالِ بُیُوْتًا وَّمِنَ الشَّجَرِ وَمِمَّا یَعْرِشُوْنَ ﴿۶۸﴾

او په زړه کښی واچوله رب ستا مچیو د شاتو ته (دا خبره) چه ونیسئ (او جوړوئ) تاسی په غرونو کښی کورونه او له ونو څخه او له هغه څخه چه خلق ئی لوړ جوړوی.

**تفسیر:** یعنی د انګورو د پورته کولو دپاره هغه چیلی او اچی (څپرونه)چه تاسی ئی جوړوئ یا هغه عمارتونه چه خلق ئی تیاروی. د شاتو مچئ د ور په زړه کښی اچولو او حکم ورکولو څخه دغه مطلب دی چه د هغه فطرت داسی جوړ شوی دی چه سره د ادنیٰ حیوانتوبه په نهایت کاریګری ډیری چالاکی ـ ښه شعور ـ اعلیٰ ادراک ـ نری صنعت خپلی شکرګنی (ګبینونه) د غرو او ونو په سوریو او چاودونو او په عمارتونو او نورو کښی تیاروی ـ او نوری تولی مچئ د یوی لوئی مچئ تر حکم لاندی په ډیر ښه اطاعت او انقیاد سره کار کوی ـ د دوی مشر ته «یعسوب» وائی چه د ده په متابعت د مچیو فوج هر لوری ته حرکت کوی کله چه دوی کومه ځاله (شکر ګنی) جوړوی، نو د دغی ځالی تولی خونی د «متساوی الاضلاع مسدس» په شکل وی. بی له مسطرو او بی له پرکارو او نورو مهندسی اسبابو په دومره صحت او انضباط سره داسی سم او برابر ـ منظم مرتبه او په همغه یوه شکل د دغو ګردو (تولو) کورونو جوړول داسی شی دی چه انسان ورته هک پک او حیران پاتی کیږی. حکماء وائی که بی له مسدسه کوم بل شکل ئی غوره کړی وی، نو خامخا به په منځ کښی څه ځای فضول او بیکاره پاتی وی ـ فطرت دی ته د داسی یوه شکل په لوری لار ښوونه کړی ده چه په هغه کښی هیڅ یوه فرجه او تشوالی هم خوشی او بیکاره نه وی پاتی.

---

ثُمَّ كُلِي مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ فَاسْلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا ۚ يَخْرُجُ مِنْ بُطُوْنِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ اَلْوَانُهٗ فِيْهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ ۗ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿٦٩﴾

---

بیا نو خوروئ تاسی (ای مچیو!) له هر قسمه میوو څخه نو ځئ (الوځئ) په لیاره د رب خپل په دغه حال کښی چه آسانه ده (صافه او خلاصه درښکاری) راوځی له ګیډو د دوی د څښلو (شی شات) چه مختلف دی رنګونه د دی (شاتو) په دغو (شاتو) کښی شفاء ده دپاره د خلقو بیشکه په دغو (مچیو او شاتو کښی خامخا ډیر لوی دلیل دی (پر قدرت او حکمت د الله) دپاره د هغه قوم چه فکر کوی (او پر غرائبو ئی عقل چلوی).

---

**تفسیر:** ﴿ كُلِي ﴾ آو ﴿ فَاسْلُكِي ﴾ ګرد (تول) تکوینی اوامر دی. یعنی فطرت هغه ته هدایت ورکړی دی چه خپل خواهش او استعداد او مزاج سره مناسب له هر قسمه میوو او ګلانو او نورو شیانو څخه خپل خواړه او غذا حاصله او غونده کړی. لکه چه دغه مچئ له خپلو ځالو څخه راوځی او له هر راز (قسم) ګلانو او میوو خپله غذا په څبیښلو سره حاصلوی چه له هغه څخه شات او موم

او نور حاصلیږی.

﴿ فَاسْلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا ﴾ نو ځئ الوځئ او تګ کوئ په لیاره د رب خپل په دغه حال کښې چه آسانه ده صافه او خلاصه درښکاری) یعنی د غذاء حاصلولو، او د خوړلو او څښلو څخه وروسته د بیرته راتللو لیاری صافی او خلاصی در پرتی دی او هیڅ یو مزاحمت او ممانعت ستاسی په لیاره کښې نشته. لکه چه لیدلی شوی دی چه مچئ خپلی د غذاء لټولو پسی بعض اوقات ډیرو لرو ځایونو ته ځی - او بیا بلاتکلفه خپلی شکرګنی (ځالی) ته برابر بیرته راځی - او لږ شانی هم تری لیار نه ورکیږی - او نه تری هیریږی. ځینی د ﴿ فَاسْلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا ﴾ مطلب داسی اخیستی دی چه قدرت هغه فطری لیاری چه ستا د عمل او تصرف دپاره مقرری کړی دی پر هغو مطیع او منقاد شه! او سم برابر پری تل درومه! مثلاً د ګلانو او میوو څخه خپله غذا وڅکه او وځبیښه! او پخپله فطری قواؤ او تصرفاتو سره شات او نور تری جوړوه!.

﴿ يَخْرُجُ مِنْ بُطُونِهَا شَرَابٌ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ ﴾ راوځی له ګیډو د دوی د څښلو شی شات چه مختلف وی رنګونه د شاتو) یعنی د مختلفو رنګونو شاتونه تری وځی سپین، سره او ژیړ. وائی چه د رنګونو اختلاف پر موسم - غذاـ او د مچیو په عمر او نورو پوری اړه (احتیاج) لری. او د دغو مخالفتونو لامله (له وجی) دغه اختلاف پکښې ځرګندیږی (ښکاریږی) . والله اعلم.

﴿ فِيهِ شِفَاءٌ لِلنَّاسِ ﴾ په دغو شاتو کښې شفاء ده دپاره د خلقو) یعنی په ډیرو ناجوړیو کښې له یواځی خالصو شاتو څخه یا له بلی کومی دواء سره د ګډیدلو په اثر کله چه مریضانو ته ورکړ شی باذن الله د رنځورانو د شفاء وسیله ګرځی. په حدیث کښې راغلی دی چه یو سړی د نس کیناستلو (دستونه کیدلو) لامله (له وجی) ډیر سخت په تکلیف ؤ - د ده ورور ته ځمونږ پاک رسول الله مبارک وفرمایل چه پری شات وڅښولی شی کله چه شات پری وڅښول شو نو د هغه په اسهال کښې لا تزئید واقع شو نو هغه سړی بیا د رسول الله مبارک په حضور کښې حاضر شو او هغه واقعه ئی عرض کړه چه یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ځما د ورور د نس ناستی لا پسی زیاته شوه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل «**صدق الله وكذب بطن اخيك**» الله رښتیا فرمایلی دی. او ستا د ورور ګیډه دروغجنه ده بیا ئی پری وڅښوه بیا ورڅښولو څخه بیا هغه کیفیت مداومت وکړ - نو بیا هم پاک رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه خپله اوله وینا تکراره کړه - بالاخر د دریم ځلی شات ورڅښولو څخه هغه اسهال بند شو او د هغه رنځور طبیعت درست شو. اطباؤ له خپلو اصولو سره سم ویلی دی چه ځینی اوقات په ګیډه کښې «**کیموس**» فاسدیږی چه د ګیډی هر راز (قسم) رسیدلی غذاء او خواړه او دواء فاسدوی - نو ځکه اسهال (د نس ناسته) پیل (شروع) کوی - نو د هغه علاج هم دغه دی چه مسهلات ورکړ شی څو هغه فاسد «**کیموس**» ووځی. د شات په مسهل توب کښې هیڅ شک نشته - ګواکی د رسول الله مبارک مشوره د هم دغه طبی اصول په اساس وه - د مامون الرشید په زمانه کښې کله چه «**شمامه عبسي**» ته هم داسی یو مرض لاحق شو، نو د دغی زمانی شاهی طبیب «**يزيد بن يوحنا**» په مسهل د هغه علاج وکړ - او هم دغه وجه ئی ورڅرګنده (ورښکاره) کړه - د نن پرون طبیبان هم

د «**استطلاق البطن**» د علاج دپاره د شات استعمال بيحده مفيد ښئ ـ حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه فرمائى چه «الله تعالىٰ په پاس آيتونو كښې له خرابو شيانو ښخه د ښو شيانو وتلو درى نښې راوښودى د حيواناتو له ګيډو د وينې او د غوشيو له مادى ښخه شوده ـ د نشې له مادى (كجورو او انګورو) ښخه پاكه روزى ـ د مچئ له ګيډى ښخه شات. په دغو درو واړو كښې دغې خبرى ته اشاره ده چه الله تعالىٰ د هم دغه پاك قرآن په بركت د جاهلانو په اولاده كښې عالمان پيدا كوى لكه چه د محمد رسول الله صلى الله عليه وعلىٰ آله وصحبه وسلم په وقت كښې هم داسى هم وشو چه د كفارو اولاده كاملان عارفان شول».

وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ ثُمَّ يَتَوَفَّىٰكُمْ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرْذَلِ ٱلْعُمُرِ لِكَىْ لَا يَعْلَمَ بَعْدَ عِلْمٍ شَيْـًٔا إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ قَدِيرٌ ﴿٧٠﴾

او الله پيدا كړى يئ تاسى (له عدمه) بيا به وژنى تاسى (بيا به وفات كړى تاسى په اجل خپل سره) او ځينى له تاسى هغه ښوک دى چه رد كولى شى هغه ډير خوار ژوندون ته دپاره د دى چه ونه پوهيږى (دغه زوړ) پس له علمه چه ئې درلود (لرلو) په ځلميتوب كښې په هيڅ شى (لكه وړوكى)؛ بيشكه چه الله ښه عالم دى (پر هر شى) ښه قادر دى (په كولو د هر شى چه اراده ئې وفرمائى).

**تفسير:** د قدرت ډيرى خارجى نښې ئې بيانى كړى او په هغوى يې مونږ انسانانو ته تنبيه وفرمائله چه تاسى پخپله پخپلو داخلى حالاتو كښې غور او فكر وكړئ؛ هغه چه ړومبى هيڅ شى نه ؤ پاک الله هغه ته خارجى وجود وروباښه ـ بيا ئې وواژه او هغه ورښيلى ژوندون ئې ترى بيرته واخيست او ده د هغه په مقابل كښې هيڅ ونشو كړى ـ او ځينى پخوا له مرينى په زوړوالى كښې داسى درجى ته رسوى چه د هغه ګرد (تول) هوش ـ سد ـ حواس ـ قواء بيخى زائليږى او له لاسه وځى او د هغه په لاسو او پښو كښې له سره هيڅ توان او طاقت نه وى پاتى او بيخى زهير او له كاره لويږى، نه په خبره پوهيږى او نه ئې هغه كړى خبرى او پرى تيرى شوى تجربى په ياد پاتى وى له دى نه ثابته شوه چه علم او قدرت د هغه واحد ـ احد ـ خالق او مالک په لويه خزانه كښې دى ـ هر كله او په هره انداز ـ هر چاته او په هر وقت كښې چه اراده ئې وفرمائى وركوى ئې ـ د حضرت شاه صاحب په نزد په دغه آيت كښې دغه طرف ته اشاره ده چه په دغه محمدى امت كښې به ړومبى كامل سرى پيدا كيږى او بيا به پكښې نقصانات پيدا كيږى ـ والله اعلم.

وَاللَّهُ فَضَّلَ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ فِي الرِّزْقِ ۚ فَمَا الَّذِينَ فُضِّلُوا بِرَادِّي رِزْقِهِمْ عَلَىٰ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَهُمْ فِيهِ سَوَاءٌ ۚ أَفَبِنِعْمَةِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴿٧١﴾

او الله فضل (زیادت) ورکړی دی ځینې ستاسې ته پر ځینو (نورو) په رزق (روزی په غنا، فقر، مالکیت او مملوکیت) کښې، نو نه دی هغه کسان چه فضل زیات ورکړی شوی دی دوی ته رد کوونکی د رزق (روزی، مال) خپل په هغه چا چه ئی مالکان شوی دی ښې لاسونه د دوی (یعنی له خپلو ځانونو سره ئی نه شریکوی) آیا نو دا مالکان او مملوکان په دی (اموالو) کښې سره برابر دی؟ (بلکه نه دی سره برابر)؛ آیا نو په نعمت د الله باندی انکار کوی دغه (چه الله ته شریکان ثابتوی).

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ راکړی روزی او ښښنه د ټولو دپاره یو شان او یو برابر نه ده د استعدادو او احوالو د تفاوت په لحاظ پاک الله تعالیٰ پخپل بالغه حکمت ځینو ته پر ځینو نورو فضیلت ورکړی دی ـ ځینی ئی داسی مالداره او با اقتداره ګرځولی دی چه د هغوی تر لاسو لاندی ډیر مریان او نوکران او چاکران وی چه هغوی ته د هم ده په ذریعه روزی وررسیږی ـ یو خو هغه مریان دی چه بالذات د یوی پیسی یا د ادنٰی اختیار مالکان نه دی ـ او هر وقت د خپل بادار (سردار) اشارو ته سترګی په لیاری دی نو آیا په دنیا کښی داسی کوم بادار په خپل ځان به داسی پیرزو او لورینه وکړی چه مریی یا نوکر یا چاکر ئی چه په هر حال د ده په شان انسان دی همغسی د خپل د مرئیتوب او نوکری ـ په حالت کښی د خپل بادار په دولت ـ ثروت ـ عزت ـ ښځی او نورو کښی برابر شریک شی؟ د مریی حکم خو شرعاً داسی دی چه د مرئیتوب په حالت کښی که د کوم شی مالک هم وګرځولی شی خو بیا هم دی د هغه شی مالک نه ګرځی ـ او د هغه مالک خامخا د ده همغه بادار (سردار) کیږی. فرض ئی کړئ که بادار (سردار) خپل مرئی آزاد کړی او پخپل دولت او نورو کښی ورته پوره او برابره برخه ورکړی، نو بیشکه دلته د دوی دواړو په منځ کښی مساوات قائمیږی، مګر په دغه وقت کښی هغه مریی، مریی نه دی پاتی. په هر حال د مرئیتوب کیفیت او مساوات له سره پخپلو منځو کښی سره نشی جمع کیدی. لکه چه د دوو همجنسو او متحدالنوعو انسانانو په منځو کښی په مالکیت او مملوکیت کښی سره شرکت او مساوات نشی جمع کیدی نو بیا د حسرت او حیرت ځای دی چه د خالق او مخلوق په منځ کښی په معبودیت او نورو کښی څرنګه برابری او مساوات کاوه شی؟ او داسی شیان د حقیقی مالک شریک او سهیم تاکلی (مقرر کړی) کیږی چه پخپله

مشرکین هم هغه د الله تعالیٰ مخلوق او مملوک گڼي او پرې داسې اقرار کوي **«الا شريكا هولک تملکه وماملک»** آیا د حقیقي منعم د نعمتونو شکریه هم دغه ده چه د هغو خبرو څخه چه د هغو په منلو کښې ستاسې وچولې (تندې) تریو کیږي او غړې مو وهلې کیږي او ډیر پرې خپه کیږئ له هغه څخه زیات قبیح او شنیع صورت هغه دپاره تجویز وکړې شي، ـ همغسې چه په روزې او نورو شیانو کښې الله تعالیٰ ځینو ته پر ځینو نورو فضیلت ورکړې دی او ګرد (تول) ئې سره په یوه درجه کښې نه دي ایښي، که په علم او عرفان او د نبوت په کمالاتو کښې هم کوم لوی ذات ته پر نورو فوقیت ورکړی نو د الله تعالیٰ د دغه نعمت څخه انکار پرته (علاوه) له ضده او عناده بله وجه نه لري.

وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا وَّجَعَلَ لَكُمْ مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ بَنِيْنَ وَحَفَدَةً
وَّرَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ ۭ اَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُوْنَ وَبِنِعْمَتِ اللّٰهِ هُمْ يَكْفُرُوْنَ ۝٧٢
وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَهُمْ رِزْقًا مِّنَ
السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ شَيْـًٔا وَّلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ۝٧٣

او الله پیدا کړې دي تاسې ته له جنسه ستاسې ښځې (چه زړه مو ورسره آرام شي) او پیدا کړې ئې دي تاسې ته له ښځو ستاسې ځامن او لمسي (یا لوني یا ځومان چه ستاسې د نوعې د بقاء ذرائع دي) او روزي رزق ئې درکړې دی تاسې ته له طیباتو پاکیزه ؤ (خوندورو شیانو نه چه ستاسې د شخصي بقاء وسائل دي) آیا نو (دغه کفار) پر باطلو (معبودانو) ایمان راوړي او په نعمت د الله (چه اسلام دی) دوی کافران کیږي، او عبادت کوي دغه (کفار) بې له الله د هغه (څیز) چه نه لري هیڅ واک (اختیار) دپاره د دوی د رزق (روزي ورکولو) له آسمانونو (په ورولو سره) او له ځمکې (په زرغونولو سره) د هیڅ څیز او نه طاقت لري (دغه باطل معبودان د هیڅ شي).

**تفسیر:** یعني له هم دغې انساني نوعې څخه ستاسې ښځې ئې پیدا کړې څو ستاسې په منځ کښې الفت او مؤانست قائم وي او د تخلیق غایه او غرض تکمیل شي

﴿ وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوْٓا اِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَّوَدَّةً وَّرَحْمَةً ﴾ (٢١ جزء د الروم (٢١) آیت (٣) رکوع) ﴿ اَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُوْنَ ﴾ آیا نو دغه کفار پر باطلو معبودانو ایمان راوړی او په نعمت د الله تعالیٰ چه اسلام دی دوی کافران کیږی؟) یعنی د بتانو احسان منئ چه له ناروغی ښخه مو په زعم ستاسی روغ کړی ـ یا ځامن درکړی ـ یا روزی در ورسوی چه دغه ګرد (تول) سره دروغ دی او هغه ذات چه په رښتیا سره د دغو شیانو درکوونکی دی د هغه شکر نه اداء کوئ کذا فی الموضح. او ښائی په دی لوری هم اشاره وی چه د فانی او زائل ژوندون د نوعی او شخصی بقاء د اسبابو او وسائلو منونکی یئ ـ او د الله تعالیٰ د ډیر لوی نعمت (چه د رسول الله مبارک هدایات دی) او د ابدی بقاء او دائمی ژوندون واحده ذریعه ده نه منی «**الا کل شئ ماخلا الله باطل**».

﴿ وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ﴾ الآية ـ او عبادت کوی دغه کفار بی له الله تعالیٰ ښخه د هغه شیز چه نه لری هیڅ واک او اختیار دپاره د دوی د رزق او روزی ورکولو له آسمانه او له ځمکی) یعنی نه له آسمانه د باران ورولو اختیار لری ـ او نه له ځمکی ښخه د غلی او دانی د زرغونولو قدرت د دوی په واک (اختیار) کښی شته نو بیا په معبودیت کښی د مطلق قادر او برحق قاهر شریکان ښرنګه کیدی شی؟.

﴿ وَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ﴾ او نه طاقت لری او نه توانیږی دغه باطل معبودان د هیڅ شیز) یعنی نه فی الحال دغه اختیار ور حاصل دی او نه په فی المآل کښی د دغه قوت او قدرت خاوندان کیدی شی.

---

## فَلَا تَضْرِبُوْا لِلّٰهِ الْاَمْثَالَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ۝٧٤

---

نو مه بیانوئ (مه لګوئ) تاسی الله سره مثالونه (شریکان په خدایی کښی)؛ بیشکه الله ته معلوم دی (بطلان د قول ستاسی) او تاسی نه پوهیږئ (که نه داسی به مو نه کوله).

---

**تفسیر:** مشرکانو به ویل چه حقیقی مالک خو الله تعالیٰ دی، دغه کسان د الله تعالیٰ په دربار کښی مختار دی او زمونږ کارونه هم دغو پوری اړه (احتیاج) لری او هغه لوی خدای پوری مونږ نشو رسیدی. نو دغه مثال بیخی غلط دی چه انسانان دی د احدیت له درباره سره بالکل ښه تعلق او مناسبت ونه لری. الله تعالیٰ هر شی پخپله کوی اعم له دی چه بالواسطه وی یا بلاواسطه او هیڅ یو کار ئی هیچا ته داسی نه دی ورسپارلی لکه چه دنیوی سلاطین خپلو ماتحتو ـ حکامو ته اختیارات ور تفویض کوی چه تفویض ئی په اراده او اختیار سره وی، لیکن د تفویض ښخه وروسته هغوی د هغو اختیاراتو په استعمال کښی آزاد او مختار دی. د کوم شوریٰ ـ اعیان ـ وزیر ـ معین ـ نائب الحکومه مجلس مشوره قاضی او حاکم د فیصلی په وقت کښی نه باچا او

نه وزراء او نه بل څوک ـ د هغي واقعي له جزوياتو او فيصلي څخه پوره خبردار وي، نه په هغه وقت کښي په جزئي ډول (طريقه) سره د باچا مشيت او ارادى ته د هغي فيصلي په صدور کښي څه دخل شته ـ دغه صورت د الله تعالىٰ په دربار کښي له سره نشته. بلکه هر يو لوی او وړوکی کار او له ادنىٰ څخنى ادنىٰ جزئي شي ـ که د اسبابو په واسطه سره وی که بلا واسطه د ده د محيط علم او مشيت او ارادى سره سم واقع کيږی، نو بناء پر دی پر مونږ او نورو هر مسلمان او انسان لازم دی چه د هر کلي او جزئي خالق ـ فاعل او حقيقي مؤثر، همغه پاک الله تعالىٰ وبولي او يواځي بی له مله او شريکه همغه الله واحد جل وعلا خپل معبود او مستعان وپيژني. او پر هم دغه اعتقاد تينګ او کلک ولاړ وی.

**تنبيه:** له ابن عباس رضی الله تعالىٰ عنه او نورو اسلافو څخه د ﴿ فَلَا تَضْرِبُوا لِلَّهِ الْأَمْثَالَ ﴾ دغه مطلب منقول دی «تاسی هيڅ شي د پاک الله سره مماثل مه بولئ!»

﴿ إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴾ بيشکه الله تعالىٰ ته معلوم دی بطلان د قول ستاسی او تاسی نه پوهيږئ که نه داسی به مو نه کوله) يعنی تاسی په دغه نه پوهيږئ چه الله تعالىٰ دپاره کوم مثال ښائي وړاندی کړی شي چه د اصل الحقيقت او صحيح مطلب په تفهيم کښي ممد او معاون وی او د الله د عظمت او نزاهت په خلاف کومه شبهه پيدا نه کړی ـ که صحيح مثال غواړئ نو وروسته له دی نه دوه مثالونه بيان فرمائلی کيږی ـ تاسی هغه په ډير غور او دقت سره واورئ! او د هغه تمثيل پر غرض او غايه ځان ښه پوه کړئ! تر څو حق او باطل معبود په ښه شان سره وپيژنئ! اول مثال تری دغه دی

ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا عَبْدًا مَّمْلُوكًا لَّا يَقْدِرُ عَلَىٰ شَيْءٍ وَمَن رَّزَقْنَاهُ مِنَّا رِزْقًا حَسَنًا فَهُوَ يُنفِقُ مِنْهُ سِرًّا وَجَهْرًا ۖ هَلْ يَسْتَوُونَ ۚ الْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٧٥﴾

تړی (بيانوی) الله يو مثال چه مريي وی مملوک (نه مکاتب او ماذون) چه نه قادر يږی په هيڅ شي (له نفعي او ضرره) او بل هغه څوک وی چه رزق روزی ورکړی وی مونږ ده ته له درباره خپله رزق روزی ښه (ډير مال بی له شرکته) نو دغه سړی نفقه کوی له هغه ماله په پټه او ښکاره؛ آيا برابريږی سره دوی (نه برابر يږی) توله ثناء صفت الله لره دی (چه لوی څيښتن (مالک) د تولو نعماؤ دی)؛ بلکه زياتره يعنی ګرد (تول) د دوی سره نه پوهيږی (چه نسبت د نعمتونو کوی نورو ته).

**تفسير:** یو سړی چه هغه خپلواک (خود مختار) او آزاد نه وی او د بل مریی او مملوک وی او هیڅ دول (طریقه) قدرت او اختیار نه لری او په هر تصرف او کار کښی د مالک اجازی او اشاری ته اړ (مجبور) او محتاج وی او بلا اجازه د هغه ګرد (ټول) تصرفات غیر معتبر وی. بل خپلواک (خود مختار) آزاد با اختیاره سړی دی چه ورته پاک الله پخپل فضل او مرحمت ډیره روزی رزق او مقدرت وربښلی دی ـ چه له هغه څخه شپه او ورځ په پټه او ښکاره (په هر دول (طریقه) ئی چه زړه غواړی) په خلاص لاس او په ډیر اخلاص ئی صرفوی او هیڅوک د هغه لاس نشی نیولی آیا دغه دواړه سړی سره برابر کیدی شي؟ هم داسی وپوهیږئ چه الله تعالیٰ د هر څیز حقیقی مالک دی ـ او ټول تعریفونه او ښیګنی (فائدی) د ده په خزانه کښی دی هر چا ته هر څه چه اراده وفرمائی ورکوی ئی او هیڅوک ئی مزاحمت کوونکی نه دی په ذره ذره باندی هم کلی اختیار او کامله قبضه لری دغه په څومره د ظلم خبره وی چه تاسی له هغه الله جل جلاله سره د دبری (ګټی) یا د ختو یا د نورو یو داسی بت برابروئ . چه هغه د هیڅ یو څیز مالک نه دی بلکه پخپله د بل چا مال دی کله چه مجازی مالک او مجازی مملوک سره نشی برابریدی نو بیا حقیقی مملوک به څرنګه د حقیقی مالک شریک کیدی شي؟ په دی باندی هم ښه وپوهیږئ، چه د الله واحد عبادت کوونکی چه مالک ئی ورته علم او د ایمان دولت ورعطاء کړی دی او په خلقو کښی ئی په شپه او ورځ کښی د روحانی نعمتونو د تقسیمولو ذریعه ګرځولی دی آیا دی له هغه پلیت مشرک سره چه د بت بنده او د اهواؤ او اوهامو غلام ـ او له مقبوله عمله بیخی تش لاس وی برابریدی شي؟ او له دغه موحد مؤمن سره یو ځای دریدلی شي؟ کلا! والله!. دوهم مثال تری دغه دی

---

وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَّجُلَيْنِ اَحَدُهُمَآ اَبْكَمُ لَا يَقْدِرُ عَلٰى شَىْءٍ وَّهُوَ
كَلٌّ عَلٰى مَوْلٰىهُ اَيْنَمَا يُوَجِّهْهُّ لَا يَاْتِ بِخَيْرٍ هَلْ يَسْتَوِىْ
هُوَ وَمَنْ يَّاْمُرُ بِالْعَدْلِ وَهُوَ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٧٦﴾

---

او بیانوی الله یو مثال چه دوه سړی وی چه یو له دوی نه ګونګ (چاړا) وی (چه نه څه اوری او نه څه وائی) نه قادریږی په هیڅ څیز حال دا چه دغه ګونګ بار (پیټی) وی پر مولا (بادار) خپل هر چیرته چه ولیږی (بادار) دغه (مریی) نه راوړی نه راځی په خیر سره (بلکه شر ورته رسوی) آیا برابریږی دغه (ګونګ بی خبره)، او هغه څوک چه امر کوی (خلقو ته) په عدل (انصاف بلکه له سره نه دی برابر) حال دا چه دی (پخپله هم) پر لیاره سمه (روان وی چه ژر ورسوونکی ده مقصود ته).

**تفسیر:** څوک چه ګونګی وی نو په لازمی دول (طریقه) سره کوڼ به هم وی ـ ګواکی دی به نه پخپله خبری کولی شی او نه له نورو څخه څه شی اوریدی شی (او هیڅ قوت او قدرت نه لری په هیڅ شی) ځکه چه نه حواس لری نه عقل او شل او شوټ هم وی چه هیچیری تلی راتلی هم نشی (حال دا چه دغه ګونګ پیتی وی د دواړو اوږو چه بار وی پر متولی او بادار خپل او هغه متولی ئی په هر کار کښی حیران وی ځکه چه هر طرف ته ئی چه مولیٰ ولیږی دغه کوڼ او چاړا غلام) د خپل مالک هیڅ یو کار نشی کولی هر چیری چه ئی ولیږی، یا ئی متوجه کړی، هیڅ قسم ښیګنه (نفع) او فلاح نشی وررسولی (او کار ئی تر سر نه رسوی او خپل بادار (سردار) د هغه په مقصد او کار نه بریالی کوی. نو آیا سره برابریږی دغه ګونګ او بیخبره او هغه څوک چه امر کوی خلقو ته په عدل او انصاف سره ځکه چه سلیم الحواس او فصیح اللسان او فهیم او رشید او دیندار او جامع د ټولو فضائلو او مکارمو دی او حال دا چه دی پخپله هم روان دی پر سمه لاره چه جلت رسوونکی ده مقصود ته) یعنی پخپله هم پر سمه لیاره روان دی او هم نورو ته هم د اعتدال او انصاف سمه برابره لیاره وربښیی او روانوی ئی، کله چه دغه دواړه کسان سره نه دی برابر نو یو له خپله ځانه جوړ کړی بت ته العیاذ بالله د خدائی درجه ولی ورکوله کیږی؟ یا یو ړوند او کوڼ مشرک چه د الله تعالیٰ پیدا کړی روزی څخه خوری او د یوی کودی په اندازه هم کار نه کوی، له هغه قانت مؤمن سره څرنګه برابر کیدی شی چه دی پخپله هم په سمه صافه لیاره روان دی او نور خلق هم له خپله ځانه سره یو ځای بیایی؟ حضرت شاه صاحب فرمائی «یعنی د الله تعالیٰ دوه مخلوق یو تیټ او سپک بت چه نه خوځیدی شی او نه تلی شی لکه ګونګی مریی او بل رسول چه د پاک الله لیاره په زرګونو خلقو ته ښیی او دی پخپله هم د الله تعالیٰ په بندګی قائم دی ـ د دغه رسول الله متابعت ښه او بهتر دی؟ که د هغه کوڼ چاړا بیرا مریی؟»).

(ای لویه څښتنه! ته مو پخپل عبادت او د خپل رسول په متابعت کښی لا کلک او ټینګ وساته!)

---

وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَمَآ اَمْرُ السَّاعَةِ اِلَّا كَلَمْحِ الْبَصَرِ اَوْ هُوَ اَقْرَبُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۷۷﴾

---

او خاص الله لره دی (علم په) پټو د آسمانونو او د ځمکی او نه دی امر (قیام) د قیامت (په سرعت او سهولت کښی) مګر په مثل د پټولو یا خلاصولو د سترګو بلکه دا له هغه څخه هم دیر نژدی دی (لکه د رپولو د شروع آن ځکه چه) بیشکه الله پر هر شی ښه قادر دی (چه اراده وفرمائی او ځینی له هغه بیا ژوندی کول د ټولو مخلوقاتو دی).

**تفسير:** یعنی ګرد (تول) مخلوق سره یو شان نه دی. د یوه سړی حال د بل سړی له حاله بې انتهاء اختلاف لری. ګرد (تول) شیان پر یوه مستوی سطح نه دی دروِلی شوی ـ د دغو تولو شیانو اسرار او د هر یوه پټ استعدادات او مخفی حالات الله تعالیٰ سره دی لکه چه الله سم له خپل محیط علم سره په قیامت کښی له هر یوه سره بیله معامله کوی ـ او پر مختلفو احوالو به مختلفی نتیجی مرتب فرمائی.

(او نه دی امر یعنی قیام د قیامت له جهته د جلتی او آسانی مګر په مثل د رپولو د سترګی بلکه هغه قیام ډیر نژدی دی له دغه رپولو نه هم ځکه چه دغه دوه کاره دی او هغه یو) یعنی تاسی د قیامت راتګ مستبعد مه ګڼئ ـ پاک الله تعالیٰ ته هیڅ یو څیز مشکل نه دی ـ کله چه د ګردو (تولو) خلقو د بیا ژوندی کولو اراده وفرمائی، نو د سترګو د یوه رپ په اندازه به هم څه ځنډ (درنګ) نه لګیږی هم دا چه اراده ئی وفرمائی، په یوه طرفة العین کښی به ګرد (تول) جهان بیا موجودیږی.

**تنبیه:** د ﴿ كَلَمْحِ الْبَصَرِ أَوْ هُوَ أَقْرَبُ ﴾ مطلب دا دی چه د عامو خلقو له محسوساتو سره موافق د هغه د سرعت تعبیر د سترګو په رپولو سره وکړی شو. لیکن په واقع کښی له دی نه به هم په ډیر لږ مدت کښی قیامت قائمیږی، ځکه چه «**لمح البصر**» په هر حال یو زمانی شی دی او د الله تعالیٰ پر اراده د مراد ترتیب هرومرو (خامخا) فوری او آنی دی.

(بیشکه چه الله تعالیٰ پر هر شی باندی ښه قادر دی) یعنی د هغه ذات چه د محیط علم حال او وصف ئی داسی وی چه د آسمان او د ځمکی ګرد (تول) اسرار هم د ده په مخ کښی موجود او حاضر وی او د ده کامله قدرت پر یوی یوی ذری هم محیط وی ـ ښه نو د هغه شریک او څاری بل څرنګه کیدی شی ـ او د هغه پوره مثال به له کوم ځای څخه راوړی شی؟.

---

وَاللَّهُ أَخْرَجَكُم مِّن بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ لَا تَعْلَمُونَ شَيْئًا وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٧٨﴾

---

او الله راوویستئ تاسی له نسونو (ګیډو) د میندو خپلو حال دا چه نه پوهیدئ تاسی په هیڅ شی (څیز له خیره او شره) او پیدا کړی (درکړی) ئی دی تاسی ته غوږونه او سترګی او زړونه (او نور حواس او نور اسباب) دپاره د دی چه شکر وکړئ (په دغو نعمتونو).

---

**تفسیر:** یعنی د پیدایښت په وقت کښی تاسی په هیڅ شی نه وئ خبر او نه به څه پوهیدئ ـ پاک الله تاسی ته د علم ذرائع او یوه لرونکی زړه درکړ چه هر یو د دغو بالذات پخپله هم لوی

نعمت دی او د لکونو نورو نعمتونو د متمتع کیدلو وسائل هم دی ـ که سترګی ـ غوږونه ـ عقل او نور حواس، اعضاء او جوارح نه وی، نو د ګردو (تولو) ترقیاتو ورونه به بندیدل هومره چه انسان وړوکی لوئیږی، هغومره د هغه علمی او عملی قوتونه هم بالتدریج لوئیږی او پسی زیاتیږی ـ نو د ده شکر ګزاری دغه ده چه دغه قوتونه ئی د الله تعالیٰ په طاعت کښی لګولی وی او د ده د حق په پیژندلو کښی له پوه او هوش څخه ئی کار اخیست نه داسی چه د احسان منلو په ځای بالعکس پر بغاوت او سرکشی ملا وتړی او د خپل حقیقی منعم څخه غاړه وغړوی او د کوډړو او د ډبرو (ګټو) د بتانو عبادت وکړی.

أَلَمْ يَرَوْا إِلَى الطَّيْرِ مُسَخَّرَاتٍ فِي جَوِّ السَّمَاءِ مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا اللَّهُ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٧٩﴾

آیا نه ګوری دغه (انسانان) په طرف د الوتونکو (مرغانو) چه مسخر کړی شوی (په حکم سره تړلی شوی) دی په جو (هوا) د آسمان کښی؛ نه ساتی دوی لره (په دی هوا کښی له پریوتلو څخه) مګر الله؛ بیشکه په دغه (تسخیر د مرغانو) کښی خامخا دلائل (د قدرت) دی دپاره د (هغه) قوم چه ایمان راوړی (ځکه چه سترګی د عبرت هم دوی لری).

**تفسیر:** یعنی لکه چه بنی آدم ته د هغه مناسب قوتونه ورعنایت فرمائلی دی، مرغانو او طیورو ته ئی هم د دوی له حالاتو سره مناسب فطری قوتونه په ودیعت سره ورکړی دی، هر یو الوتونکی پخپله الوتنه کښی د قدرت د قانون تابع دی ـ او د الله تعالیٰ تکوینی احکامو ته مطیع او منقاد دی هغوی ته په هیڅ یوی مدرسی، کښی د الوتلو لوست او ښوونه نه ده ورکړی شوی قدرت د دغو مرغانو او طیورو وزرونه ـ لکۍ ـ منګلی ـ مښوکی او نور اعضاء جوارح او حواس داسی جوړ کړی دی چه په نهایت آسانی سره په فضاء او د هوا په منځ کښی الوتلی شی او داسی نه کیږی چه د هغه ثقیل جسم د لطیفی هوا فضا څیری کړی یا ئی وشکوی ـ او بی اختیاره لاندی ولویږی یا د ځمکی عظیم الشانه جذب او راښکودل هغوی خپل ځان ته راکش کړی ـ او د هغو د الوتلو مخه ونیسی آیا د الله تعالیٰ څخه ماسواء د بل چا د قدرت لاس دی چه دغه طیور بی تکلفه په معمولی ډول (طریقه) سره په فضاء کښی ساتی ـ او د هوا په جو کښی ئی چپ چاپیر الوځوی؟ (بیشکه په دغه الوتنه او طیران او تسخیر د مرغانو کښی خامخا دلائل د قدرت دی دپاره د هغه قوم چه ایمان راوړی ځکه چه سترګی د عبرت هم دوی لری) حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «یعنی په ایمان راوړلو کښی ځینی اشخاص متردد کیږی او له دی کبله (وجی) چه دوی د معاش په امورو کښی مصروف دی د معاد له فکره غافل دی نو فرمائی چه د

مور له ګیدی څخه هیڅوک له خپله ځانه سره هیڅ شی نه راوړی، د ګټلو اسباب سترګی ـ غوږونه او نور حواس اعضاء او جوارح د همغه پاک الله تعالیٰ عطاء او د دغو ګردو (تولو) شیانو معطی او ورکوونکی همغه دی او الوتونکی مرغه په فضاء کښی د چا په اعتماد او مرسته (مدد) خپل وزرونه خوځوی؟.»

وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُم مِّنۢ بُيُوتِكُمْ سَكَنًا وَجَعَلَ لَكُم مِّن جُلُودِ الْأَنْعَامِ بُيُوتًا تَسْتَخِفُّونَهَا يَوْمَ ظَعْنِكُمْ وَيَوْمَ إِقَامَتِكُمْ ۙ وَمِنْ أَصْوَافِهَا وَأَوْبَارِهَا وَأَشْعَارِهَا أَثَاثًا وَمَتَاعًا إِلَىٰ حِينٍ ۝٨٠

او الله پیدا کړی دی تاسی ته له کوتو (کورونو) ستاسی ځای د هستوګنی (یعنی د خښتی تیږی (ګټی) ـ لرګی او نورو شیانو عمارتونه) او (الله) پیدا کړی دی تاسی ته له پوستکو د چارپایانو (څاروو) کورونه چه سپک مومئ تاسی هغه په ورځ د کوچ او سفر ستاسی او په ورځ د اړوولو ستاسی (په ډیره ځاے کښی) او (الله پیدا کړی دی تاسو ته) له وړیو د دغو (چارپایانو ګډو) او له وړیو د دغو (چارپایانو اوښانو) او د ویښتو د دغو (چارپایانو بیزو) اسبابونه(د اغوستلو او غوړولو او استعمالولو) او د نفعی اخیستلو تری تر حین (تر وقته د مړ کیدو ستاسی یا د حیواناتو یا تر قیامته) پوری.

**تفسیر:** یعنی کله چه د خښتو او د تیږو (ګټو) عمارتونه بل چیری نشو منتقل کیدی نو د څرمنی او د وړیو او د نورو کیږدی او تمبوګان او خیمی جوړول مو وروښودل چه په سهولت او آسانی سره منتقل کیدی شی په سفر او حضر کښی هر چیری چه مو زړه وغواړی هلته ئی ودروئ ـ او هر وقت چه مو زړه غواړی راتول ئی کړئ او یوی خوا ته ئی کیږدئ. ځینو د ﴿ يَوْمَ ظَعْنِكُمْ وَيَوْمَ إِقَامَتِكُمْ ﴾ مطلب داسی اخیستی دی چه د تګ په وقت کښی او د پورته کولو او ښکته کولو او درولو په وقت کښی سپک وی او هیڅ تکلیف او ربړ (زحمت) نه درپیښوی. (او الله تعالیٰ پیدا کړی دی تاسو ته له وړیو د دغو چارپایانو چه میږی (ګډی) دی او له وړیو د دغو چارپایانو چه اوښان دی او ویښتو وچغنو د دغو چارپایانو چه وزی (بیزی) دی اسبابونه د اغوستلو او غوړولو او استعمالولو او د نفعی اخیستلو تر وقته د مړکیدو ستاسی یا تر وقته د مړکیدو د دغو حیواناتو یا تر قیامته پوری) یعنی له دغو شیانو څخه ځومره د هستوګنی او هوسائی (آسانی) سامان او اسباب تیارولی شی، چه تر یوه معینه وقته یا تر اوږده مدته (یا ستاسی یا د دغو حیواناتو تر ژوندانه) پوری کار تری اخیست کیږی. که پاک الله مونږ او

تاسي او نورو ته ترقي كوونكي زړه او دماغ او سترګي او غوږونه (او نور حواس او جوارح) نه وي راكړي نو آيا دغه سامان به ميسر كيدى شوى؟.

وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّمَّا خَلَقَ ظِلٰلًا وَّجَعَلَ لَكُمْ مِّنَ الْجِبَالِ اَكْنَانًا وَّجَعَلَ لَكُمْ سَرَابِيْلَ تَقِيْكُمُ الْحَرَّ

او الله پيدا كړي دي تاسي ته له هغو شيزونو څخه چه پيدا كړي ئې دي سيوري مثلاً د وريځو ـ ونو ـ عمارتونو ـ غرونو او نورو سيوري د قدرت له قانونه سره سم پر ځمكه لويږي چه په هغه كښې (د حرارت په اوقاتو كښې) خلق آرام او هوسائي (آساني) كوي او (الله) پيدا كړي دي تاسي ته له غرونو څخه ځايونه د پټيدلو (ګاري او سمڅي چه هلته مو سرونه ننباسئ او له بارانه له، لمره يا له دښمنانو او نورو څخه مو ځانونه ساتلى شئ) او (الله) پيدا كړي دي تاسي ته) قميصونه (د پنبي وړيو كتانو او نورو) چه ساتي تاسي له ګرمي نه.

**تفسير:** حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليكي «همغسي چه د ګرمي په موسم كښي د ګرمي څخه د ځان ساتلو وسائل شته د يخني په موسم كښي د يخني څخه د ځان ساتلو وسائط هم شته خو كله چه په هغه ملك كښي ګرمي زياته وه د هغه ذكر ئې په خصوصيت سره وفرمايه»

وَسَرَابِيْلَ تَقِيْكُمْ بَاْسَكُمْ ؕ

او (الله پيدا كړي دي تاسي ته) قميصونه (د اوسپني او ځغري) چه ساتي مو (له ضرره) د جنګه ستاسي؛

**تفسير:** يعني زره او ځغري چه په جنګونو كښي خلق له زخمي (ټپي) كيدلو څخه ساتي او د دښمن د وسلو له واره او د چړو او تورو له ګزاره مو ژغوري (بچ كوي).

كَذٰلِكَ يُتِمُّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُوْنَ ﴿٨١﴾

هم داسي (چه تير نعمتونه ئې تمام كړي دي) پوره كوي نعمت (احسان خپل

پر تاسي دپاره د دى چه تاسي اسلام راوړئ (د الله حکم ومنئ).

**تفسير:** يعني وګورئ چه پاک الله پخپل فضل او کرم سره څرنګه ستاسي د هر قسم ضرورياتو انتظام فرمايلى دى؟ او څنګه علمي او عملي قوتونه ئې دربښلي دي؟ چه د هغو په کار اچولو او له هغو څخه د کار اخستلو په اثر ډير عجيب او غريب تصرفات کولى شئ نو بيا څرنګه امکان لرى هغه الله چه په مادي او جسماني دنيا کښي پر تاسي دومره مراحم او احسانات فرمائلي دى، د روحاني تربيت او تکميل په سلسله کښي به پر مونږ او تاسي خپل لطف او احسان نه وى پوره کرى؟ بيشکه چه هغه ئې هم راپوره فرمايلي دى لکه چه په ٦ جزء د المائدة په ٣ آية اوله رکوع کښي داسي يو آيت لولو ﴿ ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِى وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلْإِسْلَٰمَ دِينًا ﴾ ضرور دى چه د جهان ګرد (تول) خلق د دغه احسان په مقابل کښي خپلي غاړى کيږدى او د هغه حقيقي منعم جل جلاله او اعظم محسن (عم نواله) د زړه له کومي تل تر تله مطيع او منقاد اوسى.

فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ ٱلْبَلَٰغُ ٱلْمُبِينُ ﴿٨٢﴾

نو که شا وګرځوله دوى (له اسلامه نو تاته هيڅ ضرر نشته) پس بيشکه چه خبره هم دا ده چه پر تا (اى محمده!) رسوونه ده ښکاره.

**تفسير:** يعني که دوى سره د دومره احساناتو د اوريدلو بيا هم د الله تعالىٰ په مقابل کښي خپل سرونه ښکته نه کړى نو تاسي هيڅ غم او انديښنه مه کوئ لـ تاسي خپله فريضه او سپارلى شوى وظيفه اداء فرمائلي ده ـ او په ډير صراحت او ښه وضاحت سره مو ګردى (تولى) ضرورى خبرى هغوى ته آورولي دى وروسته له دى نه د هغوى معامله پاک الله ته وسپارئ!.

يَعْرِفُونَ نِعْمَتَ ٱللَّهِ ثُمَّ يُنكِرُونَهَا وَأَكْثَرُهُمُ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿٨٣﴾ ع

پيژني دغه (کفار علماً) نعمتونه د الله چه اقرار پرى کوى بيا انکار کوى له هغه څخه (عملاً چه د غير الله عبادت کوى) او زيات د دغو (منکرانو) څخه کافران دى.

**تفسير:** يعني بيشکه څيني بندګان شکر ګزار هم دى ﴿ وَقَلِيلٌ مِّنْ عِبَادِىَ ٱلشَّكُورُ ﴾ (٢٢ جزء د السباء (١٣) آية (٢) رکوع) ليکن د اکثرو دغه حال دى چه سره د الله تعالىٰ د انعاماتو او احساناتو د ليدلو او پوهيدلو خو بيا هم د الله تعالىٰ له شکر ګزارى او د اطاعت له اظهاره

غافلان کاهلان او ذاهلان دی ـ او شکر ئی نه اداء کوی او احسانات ئی هیروی، ګواکی له زړه پری پوهیږی او عملاً تری انکار کوی.

وَيَوْمَ نَبْعَثُ مِن كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا ثُمَّ لَا يُؤْذَنُ لِلَّذِينَ كَفَرُوا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ ﴿٨٤﴾

او (وویروه ای محمده ! دغه کفار له هغی) ورځی چه راپورته به کړو مونږ له هر امت څخه یو شاهد (یعنی په ایمان او کفر د دوی) بیا به نه ورکولی کیږی اذن (حکم د معذرت یا د دنیا د رجوع) هغو کسانو ته چه کافران شوی دی او نه به له دوی نه طلب د استرضاء کولی شی (له الله نه په منلو د توبی سره).

**تفسیر:** دلته د کفر او ناشکری انجام راښیی. یعنی په یاد ئی ولرئ چه هغه ورځ هم راتلونکی ده چه ګرد (تول) پخوانی او وروستنی امتونه به د احکم الحاکمین په وروستنی عدالت کښی سره ودریږی او د هر امت نبی به د ګواه په ډول (طریقه) درولی کیږی څو د خپل امت د نیک او بد او مطیع او عاصی په نسبت شهادت ورکړی چه کوم یوه څه معامله کړی ده؟ او د الله تعالیٰ د پیغام حق څرنګه اداء او له انبیاؤ سره ئی څرنګه سلوک کړی دی؟ په دغه وقت کښی به دغو منکرانو ته له سره د خبری اجازه نه وی او نه به خپلی شوندی پرانستلی شی. یا اوس وروسته له وقته په توبه ایستلو سره څرنګه خلاصیدی شی؟ دوی به خپلی شوندی وخوځوی؟ حال دا چه دوی به پر خپل مجرم توب او د خپلو د هیڅ قسم نتواتو او معذرتونو نه قبلیدلو باندی پوره خبر او د هغه انکشاف به دوی ته شوی وی. او دوی به په دغه وقت په دی باندی هم پوهیږی چه دا ځای «**دار الجزاء**» دی او «**دار العمل**» نه دی چه اوس په پښیمانی او توبه ایستلو سره خطاوی وبښلی شی.

وَإِذَا رَأَى الَّذِينَ ظَلَمُوا الْعَذَابَ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ ﴿٨٥﴾

او کله چه ووینی هغه کسان چه ظلم (شرک) ئی کړی دی (پر نفسونو خپلو) عذاب نو سپک به نه کړی شی له دوی نه (درونده عذاب د دوزخ) او نه به دوی ته مهلت ورکړی شی (لپاره د اعتذار).

**تفسیر:** یعنی نه به د عذاب په سختی کښی څه تقلیل واقع کیږی ـ او نه به په منځ کښی څه

وار او مهلت ورکړ شي سم د لاسه به په بل عذاب کښې اخته کيږي. ځينو د ﴿ وَلَاهُمْ يُنظَرُونَ ﴾ څخه دغه مراد کړی دی چه د جهنم د ليدلو څخه وروسته د يوې دقيقې (منت) دپاره هم دوی ته مهلت او فرصت نه ورکاوه کيږي. او جهنم على الفور ګرد (تول) مجرمان خپل طرف ته کش کوی او دوزخ به پر دغو مجرمانو داسې غوته (حمله) اچوی او اوچت ئې راپورته کوی او ځان ته ئې راجذبوی لکه چه يو قوتناک مقناطيس د اوسپنې نری بڅرکی په ډير سرعت او سهولت سره خپل ځان ته راکاږی يا لکه چه ډير وړی چرګ دانی له ځمکې څخه تولوی او پخپله ژبه ئې نغاړی ګواکې دغه اشاره د جهنم د دخول د سرعت په طرف ده.

---

وَ إِذَا رَا الَّذِينَ أَشْرَكُوا شُرَكَآءَهُمْ قَالُوا رَبَّنَا هَٰٓؤُلَآءِ شُرَكَآؤُنَا الَّذِينَ كُنَّا نَدْعُوا مِن دُونِكَ ۖ فَأَلْقَوْا إِلَيْهِمُ الْقَوْلَ إِنَّكُمْ لَكَٰذِبُونَ ﴿٨٦﴾

---

او کله چه ووينی هغه کسان چه شرک ئې (غوره) کړی دی شريکان (بتان وغيره) خپل نو وبه وائی دغه (مشرکان) ای ربه ځمونږ دا دی شريکان (خدايان) ځمونږ هغه چه وو مونږ چه بللو او عبادت مو کاوه (په دنيا کښې د دوی) بې له تا نه نو وبه غورځوی دغه (بتان) دوی ته خبره چه بيشکه تاسې خامخا دروغجنان يئ.

---

**تفسير:** يعنى مونږ د دوی له شامته ووژلی شو ښائی مطلب ئې داسې وی چه مونږ بالذات بې قصوره يو، يا دا چه دوی ته دوچنده سزا ورکړه! (پس بيرته به وغورځوی خبره د دوی او دا بتان به هم الله تعالىٰ ګويان کړی او دغو مشرکانو ته به ووائی چه بيشکه تاسې خامخا دروغجنان يئ) يعنى تاسې دروغجنان يئ چه مونږ مو د پاک الله شريکان درولی وو ـ مونږ کله تاسې ته ويلی ؤ چه ځمونږ عبادت وکړئ فى الحقيقت تاسې يوائځې د خپلو اوهامو او د چتى (بيکاره) خيالاتو به عبادت کښې لګيا وئ چه هغه هيڅ اصل او حقيقت نه درلود (لرلو) يا د پيريانو او شيطانانو عبادت به مو کاوه مګر هلته شيطان هم به داسې وينا سره له دوی نه ځان بيلوی ﴿ وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيْكُم مِّن سُلْطَٰنٍ إِلَّآ أَن دَعَوْتُكُمْ فَٱسْتَجَبْتُمْ لِي فَلَا تَلُومُونِي وَلُومُوٓا أَنفُسَكُم ﴾
(۱۳ جزء د ابراهيم (۲۲) آية (٤) رکوع ) الغرض هغه شيان ئې چه خپل معبودان ګرځولی وو هغوی ګرد (تول) به د خپل د بيلتون او بيزاری اظهار او اعلان له هغو سره کوی ځوک به په رښتيا سره او ځوک به په دروغو سره ـ تيږی (ګټی) او د نورو شيانو بتان خو د دغه خبری څخه په قطعی دول (طريقه) خپله بيخبری ښکاروی، ملائکې او انبياء او صالحين به له شرکه او کفره د خپل د دائمی سخت نفرت اظهار او د خپل د خالصی بندګی اقرار کوی پاتی شول شياطين اګر که د دوی دغه د نفرت اظهار به په دروغو سره وی خو بيا

هم له هغه څخه مشركين به په كلي ډول (طريقه) سره مايوس كيږي او پخپلو منځونو كښې به سره وائي چه نن ځمونږ هغه لوى رفيق هم ځمونږ په كار رانغى او زړه مو پرى ښه نشو.

وَأَلْقَوْا إِلَى اللَّهِ يَوْمَئِذٍ السَّلَمَ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿٨٧﴾

او وبه غورځوى دغه (مشركان) الله ته په دغى ورځى كښې صلحه (او اقرار به وكړى په ګناه خپلې په عاجزى سره) او ورك (غائب) به شي له دوى نه هغه چه وو دوى چه دروغ به ئى تړل (پر الله).

تفسير: يعنى ټول شورماشور او طمطراق او افتراء تړل به په هغه وقت كښې غائبيږى ګرد (ټول) به عاجز او مقهور كيږى او د الله تعالىٰ په حضور كښې به د اطاعت او انقياد اظهار كوى ﴿أَسْمِعْ بِهِمْ وَأَبْصِرْ يَوْمَ يَأْتُونَنَا﴾ (١٦) جزء د مريم (٣٨) آيت (٢) ركوع).

الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ زِدْنَاهُمْ عَذَابًا فَوْقَ الْعَذَابِ بِمَا كَانُوا يُفْسِدُونَ ﴿٨٨﴾

هغه كسان چه پخپله كافران شوى دى او اړولى دى دوى (نور خلق هم په دنيا كښې) له لياري د الله زيات به كړو مونږ دوى ته (په اخرت كښې) يو عذاب د پاسه د بل عذاب په سبب د هغه چه وو دوى چه فساد به ئى كاوه (چه كفر او منع ده د اسلامه).

تفسير: يعنى يو عذاب د حق په انكار او بل په دى باندى چه نور خلق ئى د الله تعالىٰ له لياري څخه منع كړى دى. يا يو عذاب د جرم پر صدور او بل د هغه د عادت اچولو په تعميم باندى. بهرحال له آيت څخه معلوم شو چه څرنګه په جنت كښې د اهل الجنت منازل او مدارج متفاوت وى په جهنم كښې به هم د دوزخيانو مدارج له كميت او كيفيت او نوعيت له پلوه سره متفاوت وى.

وَيَوْمَ نَبْعَثُ فِي كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا عَلَيْهِم مِّنْ أَنفُسِهِمْ وَجِئْنَا بِكَ شَهِيدًا

عَلٰى هٰٓؤُلَآءِ ۭ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَّ
هُدًى وَّرَحْمَةً وَّبُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ ﴿٨٩﴾

او (یاد کړه ای محمده دوی ته) هغه ورځ چه راپورته به کړو مونږ په هر امت کښې یو شاهد (نبی) په (ویلو او کولو د) دوی باندی له نفسونو (قومونو، قبیلو) د دوی او رابه ولو مونږ تا(هم ای محمده) شاهد پر دغو کسانو؛ او نازل کړی لیږلی دی مونږ پر تا (ای محمده! متدرجاً) کتاب (قرآن چه دی) بیان واضح دپاره د هر (دینی) څیز او هدایت (حق ته) او رحمت (له عذابه) او زیری (په جنت سره) خاص مسلمانانو ته).

**تفسیر:** یعنی هغه هولناکه ورځ د یاد ساتلو وړ (لائق) ده کله چه هر یو نبی به د خپل د امت د معاملاتو په نسبت د الله جل جلاله په دربار کښې بیان ورکوی او ځمونږ نبی کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم به هم د دی امت حالات بیانوی، بلکه د ځینو مفسرینو له قوله سره موافق محمد صلی الله علیه وسلم به د ګردو (تولو) شهداؤ دپاره داسی شاهدی اداء کوی چه بیشکه دوی خپل منصبی فرائض په ښه شان سره اداء کړی دی. په حدیث کښې دی چه د امت اعمال هره ورځ د رسول الله مبارک په حضور کښې وړاندی کیږی دوی د هغوی د خیریه ؤ اعمالو په لیدلو سره د الله تعالیٰ شکر اداء کوی ـ او د دوی د بد عملیو پر مطلع کیدلو د هغوی دپاره مغفرت او بښنه غواړی.

﴿ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ ﴾ الآیة ـ او په تدریج سره نازل کړی، (لیږلی) دی مونږ پر تا ای محمده! کتاب چه دغه قرآن دی او دی بیان واضح دپاره د هر دینی څیز او هدایت حق ته او رحمت له عذابه او زیری په جنت سره خاص مسلمانانو ته) یعنی په قرآن کښې تمام د هدایت علوم ـ او د دین اصول ـ او د دارینو د فلاح په متعلق ضروری امور او نهایت مکمل او واضح بیان شته. په دغه کښې د قیامت هغه واقعات هم راغلل چه د هغو ذکر پاس تیر شو ـ په دغه صورت پر هغه نبی چه داسی جامع کتاب لیږلی شوی دی د هغه مسئولیت او ذمه واری به هم ډیره درنه او ثقیله وی ـ ګواکی د ﴿ شَهِيْدًا عَلٰى هٰٓؤُلَآءِ ﴾ څخه وروسته ﴿ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ ﴾ ئی فرمائلی ـ د محمد صلی الله علیه وسلم عظیمه مرتبه او د هغی مرتبی سره مناسب د مسؤلیت په لوری ئی لطیفه اشاره وفرمایله ﴿ فَلَنَسْـَٔلَنَّ الَّذِيْنَ اُرْسِلَ اِلَيْهِمْ وَلَنَسْـَٔلَنَّ الْمُرْسَلِيْنَ ﴾ جزء (٨) (د الاعراف ٦ آیت (١) رکوع) ابن کثیر رحمة الله علیه دغه لړ څه په تفصیل سره بیان کړی دی.

(او هدایت حق ته او رحمت له عذابه او زیری په جنت سره خاص مسلمانانو ته) یعنی دغه کتاب د ګرد (تول) جهان دپاره له سره تر پایه پوری هدایت او مجسم رحمت دی حکم منونکو بندګانو ته د شانداره مستقبل څخه زیری اوروی.

إِنَّ ٱللَّهَ يَأْمُرُ بِٱلْعَدْلِ وَٱلْإِحْسَٰنِ وَإِيتَآئِ ذِى ٱلْقُرْبَىٰ وَيَنْهَىٰ عَنِ ٱلْفَحْشَآءِ وَٱلْمُنكَرِ وَٱلْبَغْىِ ۚ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿٩٠﴾

بیشکه الله امر (حکم) کوی په عدل (انصاف کولو) سره او په احسان (نیکی کولو) سره او په ورکړی سره خاوندانو د خپلوی ته او منع کوی له قبیحه ؤ کارونو څخه او له بدو کارونو او له سرکښی څخه، پند درکوی تاسی ته (په دغو اوامرو نواهیو سره) دپاره د دی چه تاسی پند واخلئ (په دغو سره).

**تفسیر:** لوی قرآن ئی «تبیاناً لکل شئ» فرمایلی ؤ ـ دا آیت د هغه یوه نمونه ده. ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی چه الله تعالیٰ د هر یوه خیر او شر بیان په دغه آیت کښی سره راغوند کړی دی ـ ګواکی هیڅ یوه داسی عقیده ـ نیک خلق ـ عمل ـ معامله ـ ښه ـ او بد به نه وی چه امراً یا نهیاً د دی آیت په تحت کښی رانشی.

ځینی علماء لیکی که د پاک قرآن بل آیت نه وی ـ نو یواځی هم دغه آیت د «تبیاناً لکل شئ» د تثبیت دپاره هم کافی ؤ.

ښائی د هم دی دپاره راشد خلیفه حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمة الله علیه دغه آیت د جمعی او د عیدینو په آخری خطبی کښی درج کړ او محمدی امت ته ئی یوه حسنه اسوه قائمه کړه (رحمه الله).

د دی آیت د جامعیت پوهولو دپاره د یو مستقل تصنیف ضرورت دی خو بیا هم لږ څه اندازه دی داسی وکړی شی چه په دغه آیت کښی د دری شیانو امر فرمایلی شوی دی.

(١): عدل (٢): احسان (٣): ایتاء ذی القربی ـ

(١): د عدل مطلب دا دی چه د انسان تمام عقائد ـ اعمال ـ اخلاق ـ معاملات جذبات ـ د اعتدال او انصاف په تله (میزان) کښی تللی شوی وی او له افراطه او تفریطه هیڅ یوه پله ئی لاندی باندی نه وی که له خپل کوم ډیر سخت او غلیظ دښمن سره هم معامله کوی، ښائی چه د انصاف له اساسه او اصوله وانه وړی! د ده ظاهر او باطن ښائی چه یو شان وی! هره هغه خبره چه د خپل ځان دپاره نه غوره کوی، هغه دی د خپل بل وروړ دپاره هم غوره نه کړی.

(٢): د «احسان» معنی دا ده چه ښائی انسان بالذات د نیکی او ښیګڼی (فایدی) مجسمه شی ـ او د نورو دپاره هم ښه وغواړی! د عدل او انصاف له مقامه لږ څه پورته شی او د فضل او عفو او تلطف او ترحم عادت ځان ته غوره کړی ـ د فرائضو د اداء کولو څخه وروسته د تطوع او تبرع په طرف قدم واخلی! له انصافه سره دی مروت جمع کړی! او یقین دی ولری هره هغه نیکی چه دی ئی کوی ـ الله تعالیٰ هغه ګوری ـ او د هغه د لوی دربار د ښیګڼی (نیکئ) جزاء هرومرو

(خامخا) د ښيګڼې (نيکۍ) په صورت وررسيږي! لکه چه د «صحيح بخاري شريف» په يوه مبارک حديث کښې راغلې دي ـ «**الاحسان ان تعبد الله کانک تراه فان لم تکن تراه فانه يراک**» او په ۲۷ جزء د «**الرحمٰن**» په ٦٠ آيت ۳ رکوع کښې هم داسې يو آيت لولو ﴿ هَلۡ جَزَآءُ ٱلۡإِحۡسَٰنِ إِلَّا ٱلۡإِحۡسَٰنُ ﴾

(۳): «ايتاء ذی القربیٰ» يعنې ورکړه او احسان او ښيګڼه (نيکي) کول له خپلوانو سره هم د الله تعالیٰ خوښ دی. واقعاً چه عدل او احسان يا په بل لفظ (انصاف او مروت) خو د خپل ځان او هر خپل او پردي او دوست او دښمن سره متعلق دي ـ ليکن د اقاربو حق دی له اجانبو څخه ښه زيات وکړی شي! او هغه تعلقات چه قدرت په منځ کښې قائم کړی دي د هغه رعايت دی خامخا وکړی شي! بلکه له اقاربو سره همدردی او له هغه سره مروت او احسان دی له پرديو څخه زيات وکړی شي، صلة الرحم يوه مستقله نيکي ده ـ چه ښائي د اقاربو او ذوی الارحامو دپاره درجه په درجه استعمال کړی شي. ګواکې وروسته له »احسان» د «ذی القربیٰ» په بالتخصيص ذکر کولو سره تنبيه ئې وفرمايله چه عدل او احسان ګردو (تولو) لره يو شان دی، ليکن د مروت او احسان وقت له ځينو مواقعو څخه په ځينو کښې د زيات رعايت او اهتمام قابل دی. د مراتبو د فرق هيرول يو شان د قدرت قائم کړی قوانين هيرول دي. اوس د دغو دريو الفاظو جامعيت تر نظر لاندې نيولې هر يو يوه سړی فيصله کولی شي چه هغه کومې نورې فطري ښيګڼې او نيکۍ داسې په دنيا کښې به پاتې وی چه د دغو دری فطري اصولو له احاطې څخه د باندې وی؟ فلله الحمد والمنه!.

﴿ وَيَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِ وَٱلۡبَغۡيِ ﴾ الآية ـ يعنې منع هم له دريو شيانو څخه فرمائي

(۱): «فحشاء» (۲): «منکر» (۳): «بغی» يعنې ځکه چه د انسان په وجود کښې هم دری قوتونه شته چه د هغو د بې موقعه او غلط استعمال څخه ګردی (تولې) خرابۍ او بدۍ پيدا کيږي.

(۱): شهواني بهيمي قوت.

(۲): شيطاني وهمي قوت.

(۳): سبعيه غضبي قوت.

غالباً له «فحشاء» څخه هغه د بيحيائۍ خبرې مراد دي چه د هغو منشاء د شهوت او بهيميت افراط وی. «منکر» د «معروف» ضد دی ـ يعنې هغه نامعقوله کارونه چه تری سليمه فطرت او صحيح عقل انکار وکړی ـ ګواکې چه د شيطاني وهمي قوی د غلبې څخه د ملکيه عقلي قوه پره شي.

دريم شی ئې «بغی» يعنې سرکشي او ياغيتوب دی ـ چه سړی په بغاوت سره له حده تير شي او په ظلم او تعدی ملا وتړی ـ او د ځيروونکو ځناورانو په شان ځيرولو داړلو ـ شکولو او ځغليدلو پسې ولوېږي او د نورو د ځان يا د مال ـ يا پت (عزت او آبرو) او نورو شيانو د نيولو دپاره په ناحقه سره لاس وغځوی داسې حرکات د خپلو ګردو (تولو) اقسامو سره د سبعيه غضبي قوت د بيځايه استعمال څخه پيدا کيږي. الحاصل په دغه آيت کښې ئې تنبيه فرمايلې ده تر هغه پورې

چه انسان دغه دری واړه قواء اداره نه کړی ـ او په خپل قابو کښې ئی ونه ساتی او ملکیه عقلی قوه پر دغو نورو قواؤ حاکمه ونه ګرځوی له سره پاک او مهذب کیدی نشی.! اکثم بن صیفی رضی الله تعالیٰ عنه د دی آیت کریمه د آوریدلو څخه وروسته خپل قوم ته وویل «زه ګورم چه دغه رسول صلی الله علیه وسلم د ګردو (تولو) عمده ؤ او اعلیٰ ؤ اخلاقو حکمونه صادروی او له تیتو او سپکو اخلاقو او اعمالو څخه ممانعت کوی نو د ده په منلو او اطاعت کښې جلتی وکړئ»! «**فکونوافی هذا الأمر رؤوساً ولا تکونوا فیه اذناباً**» تاسی په دغه سلسله کښې سر شئ! او لکئ مه کیږئ!» حضرت عثمان بن مظعون رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی چه د دی آیت د آوریدلو څخه ځما په زړه کښې ایمان راسخ شو او د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم محبت می په زړه کښې تینګ شو.

---

**وَ اَوۡفُوۡا بِعَهۡدِ اللّٰهِ اِذَا عٰهَدۡتُّمۡ وَلَا تَنۡقُضُوا الۡاَيۡمَانَ بَعۡدَ تَوۡكِيۡدِهَا وَقَدۡ جَعَلۡتُمُ اللّٰهَ عَلَيۡكُمۡ كَفِيۡلًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَعۡلَمُ مَا تَفۡعَلُوۡنَ ﴿۹۱﴾**

---

او وفا کوئ تاسی په عهد د الله کله چه په خپلو منځونو کښې سره عهد وتړئ او مه ماتوئ تاسی قسمونه (عهدونه خپل) وروسته د محکم کولو د هغو (په قسم سره) حال دا چه په تحقیق ګرځولی دی تاسی الله پر خپلو ځانونو شاهد (ضامن ساتونکی په وفا سره)؛ بیشکه الله ته معلوم دی هر هغه څه (هم) چه کوئ ئی تاسی.

---

**تفسیر:** په پاس آیت کښې د دری شیانو د کولو یا د پریښودلو حکم وشو، اوس د هغه ځینی افراد بالتخصیص بیان فرمائی یعنی د عهد د ایفاء تاکید ـ د غداری او بد عهدی څخه ممانعت چه دغه شی علاوه پر دی چه فی نفسه مهتم بالشان دی، د هغه وقت مخاطبینو له حاله سره زیات مناسب ؤ او د هغه اثر د مسلمانو اقوامو پر عروج او ترقی او د هغو د مستقبل بری او کامیابی باندی لویدونکی ؤ نو ځکه ئی حکم وکړ ـ لکه چه د الله تعالیٰ نوم یادوئ او قسمونه پری خورئ او معاهده پری تړئ نو د الله تعالیٰ د نامه حرمت او عزت په ښه شان سره وساتئ! که له کوم قوم یا له کوم سړی سره مو معاهده وی (په دی شرط چه خلاف الشرع نه وی) نو ستاسی او د هر مسلمان وظیفه دا ده چه هغه پوره کړئ ـ اګر که د هغی په ایفا کښې ډیر مشکلات او مصاعب هم درپیښ شی ـ ځکه چه وائی «د نرانو وینا یخه کلا ده» خصوصاً چه د الله تعالیٰ نوم هم پری یاد شوی وی او په قسم سره کومه معاهده هم ترلی شوی وی نو ښائی چه وپوهیږو د قسم یادول داسی دی لکه چه په هغه معامله کښې پاک الله شاهد کړئ ـ یا ئی ضامن وګرځوئ ـ الله تعالیٰ ته دغه خبره هم ډیره ښه معلومه ده چه تاسی ئی ولی شاهد دروئ؟ او په دی هم ښه خبردار دی چه

تاسي تر كوم ځاى پورى د هغه د شهادت لحاظ كوئ ـ كه تاسي خيانت او بد عهدى وكړه نو الله تعالىٰ د خپل محيط علم سره سم تاسي ته سزا دركوى، ځكه چه ستاسي هيڅ قسم پټه او ښكاره خبره ـ مكر ـ فريب او دغابازى ترى پټ نه دى او مخفى نه پاتي كيږى.

وَلَا تَكُونُوا كَالَّتِي نَقَضَتْ غَزْلَهَا مِنْ بَعْدِ قُوَّةٍ أَنكَاثًا تَتَّخِذُونَ أَيْمَانَكُمْ دَخَلًا بَيْنَكُمْ أَن تَكُونَ أُمَّةٌ هِيَ أَرْبَىٰ مِنْ أُمَّةٍ إِنَّمَا يَبْلُوكُمُ اللَّهُ بِهِ وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿٩٢﴾

او مه كيږئ تاسي (په نقض د عهد كښي) په شان د هغي (ښځي) چه بيرته به ئي اومه كول تارونه وريشلي خپل وروسته د محكم والي (د هغه په تاوولو د هغو سره) حال دا چه توتي توتي وى حال دا چه نيسئ تاسي عهدونه خپل دخل (پلمه تګى مكر خيانت) (يو له بل سره) پخپلو منځونو كښي په سبب د دى چه شوه به يوه ډله دغه (ډله) ډيره زياته له هغه بلي ډلي څخه (نو تاسي به خپل عهد ماتوه له يوى ډلي سره به يو ځاى كيدئ) بيشكه هم دا خبره ده چه آزموئى تاسي الله په (وفا د) دغي (وعدى) سره؛ او خامخا بيان به كړى هرومرو (خامخا) (الله) تاسي ته په ورځ د قيامت كښي هغه شي چه وئ تاسي چه په هغه كښي به مو سره اختلاف كاوه (په جزاء دركولو سره)

**تفسير:** يعنى له عهد تړلو څخه وروسته د هغه ماتول داسي د حماقت كار دى، لكه چه كومه ښځه توله ورځ تار وريشي وغړى بيا دغه خپل جوړ، تيار وريشلي شوى تار يا اوبدلي يا ګنډلي كالي (كپړى) د ماښام په وقت كښي بيرته اومه كړى يا ئي بيخي وشلوى يا ئي وشكوى او توتي توتي ئي كړى لكه چه په مكى معظمى كښي يوى ليونى ښځي (ريطه بنت سعده نامى) به هم داسي كول. مطلب ئي دا دى چه لكه د اوم تار په شان د معاهداتو ګڼل چه هر كله مو زړه وغواړى همغسي ئي وريشئ او هر كله چه مو زړه وغواړى د خپلو ګوتو په يوه ادنىٰ حركت ئي وشكوئ نو دغه سخت ناعاقبت انديشي او ليونتوب دى كه هر لفظ او قول او عهد او پيمان ته اعتبار نشي پاتي، نو د دنيا نظام بيخي خراب او مختل كيږى ـ د هم دغه قول او اقرار له پابندى څخه د عدل تله سمه او برابره دريدلي شي ـ هغه اقوام چه د عدل او انصاف له قانونه مخ آړوى او محض د خپلو اغراضو او خواهشو پسي تل ګرځي نو د دوى په نزد د معاهدى ماتولو دپاره تړلي كيږى او هر كله چه خپل معاهد قوم كمزوره او ناتوانه ووينى نو ګرد (تول) معاهدات څيروى او د رديو په توكرئ كښي ئي غورځوى (پاك الله د دى بد عادت) په نسبت داسي فرمائى معاهدى او

قسمونه د فریب ـ دغابازی مکاری پلمی (تدبیر) او حیلی آله مه جوړوئ لکه چه د اهل جاهلیت عادت ؤ څه مهال چه کوم جماعت به ئی له خپلو ځانونو څخه قوی او طاقتور لیدل نو سم د لاسه به ئی د هغوی سره خپله معاهده غوټه کوله ـ خو هر کله چه د دغو خلفاؤ د کمزور کولو او د خپلو ځانونو د لویولو دپاره کوم فرصت او موقع ئی په لاس ورتله، نو سم د لاسه به ئی هغه معاهدات ماتول او هغه ګرد (تول) قسمونه او حلفونه به ئی د هیری په طاقچه کښی کیښودل کټمټ (هوبهو) که هغه وضعیت چه نن پرون د اروپائی اقوامو معتاد او معمول دی.

﴿ إِنَّمَا يَبْلُوكُمُ اللَّهُ بِهِ ﴾ بیشکه هم دا خبره ده چه ازموئی تاسی الله تعالیٰ په وفاء د دغی وعدی سره) یعنی په قوت او ضعف کښی د اقوامو اختلاف او له هغوی څنی د ځینو پاس خیژول او د ځینو لاندی غورځول دغه ګرد (تول) الله تعالیٰ ستاسی د امتحان او آزموینی دپاره ایښی دی او د ایفاء العهد په حکم ورکولو کښی هم ستاسی امتحان اخلی څو برأی العین ولید شی چه کوم یو جماعت او فرد له تاسی څخه ثابت قدم پاتی کیږی؟ او د خپل عهد په پوره کولو کښی خپلو خلفاؤ د قوت او د ضعف هیڅ پروا نه کوی؟ـ پاتی شو اقبال او ادبار هغه خو د چا په بد لیدلو سره نه بدلیږی ـ د اقبال په ځای د ادبار او د ضعف په ځای د قوت راوړل د الله تعالیٰ کار دی، که هغه ئی اراده وکړی، نو ئی کولی شی ـ هو! د بد عهدی خیال په زړه کښی راتلل د دغی خبری علامه ده چه ادبار راتلونکی دی.

﴿ وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ﴾ الآية ـ او خامخا بیان به وکړی الله تعالیٰ تاسی ته په ورځ د قیامت کښی هغه شی چه وئ تاسی چه په هغه کښی به مو سره اختلاف کاوه په جزاء درکولو سره) یعنی دلته د امتحان ځای دی او د امتحان نتیجه به د قیامت په ورځ کښی څرګنده (ښکاره) شی ـ کله چه د ضعف او طاقت ګردی (تولی) جګړی صافی او پری کړی شی.

وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَلَٰكِن يُضِلُّ مَن يَشَاءُ وَيَهْدِي مَن يَشَاءُ ۚ وَلَتُسْأَلُنَّ عَمَّا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٩٣﴾

او که اراده فرمائلی وی الله نو خامخا ګرځولی به ئی وئ تاسی یو امت (یو تولی متفق په اسلام) ولیکن (پاک الله) ګمراه کوی هر هغه څوک چه اراده وفرمائی (د ضلالت ئی) او په لیاره (د حق) برابروی هر هغه څوک چه اراده وفرمائی (د هدایت ئی) او خامخا وبه پوښتیدلی شئ تاسی هرومرو (خامخا) له هر هغه عمله چه وئ تاسی (په دنیا کښی) چه کاوه به مو(او خامخا به وپوښتیدلی شی تری په قیامت کښی)

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ په دی باندی قادر ؤ چه اختلاف ته به ئی له سره لیاره نه ورکوله ـ مګر

حکمت ئی د دی خبری مقتضیٰ نشو، لکه چه مو په څو څو مواقعو کښی دغه تقریر کړی دی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی ـ «له دی نه معلومه شوه چه له کافر سره دی هم غدر او بد عهدی ونه کړی شی کفر په دغو خبرو نه لری کیږی ـ مګر د دغی چاری د کولو ګناه او وبال د ده پر عامل لویږی.

وَلَا تَتَّخِذُوٓا۟ أَيْمَٰنَكُمْ دَخَلًۢا بَيْنَكُمْ فَتَزِلَّ قَدَمٌۢ بَعْدَ ثُبُوتِهَا وَتَذُوقُوا۟ ٱلسُّوٓءَ بِمَا صَدَدتُّمْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ۖ وَلَكُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٩٤﴾

او مه نیسئ تاسی قسمونه خپل (وعدی خپلی) دخل (مکر او فریب) پخپلو منځونو کښی نو وبه ښویږی قدم (ستاسی د لیاری د اسلامه) وروسته له تینګیدو د هغه نو وبه څکئ غم او رنځ (په دنیا کښی په سبب د منع راوړلو د تاسی او) په سبب د منع کولو ستاسی نورو خلقو لره له لیاری د الله نه (یعنی د وفا نه په وعدی باندی) او شته تاسی ته عذاب لوی (ای متخلفینو د وعدی په آخرت کښی).

**تفسیر:** یعنی په عهد ماتولو او قسم یادولو سره د بدعهدی لیاره مه پیدا کوئ او په دی سره اسلامی قوم مه بدناموئ چه ستاسی له دغسی خراب او تیټ (لاندی) سپک وضعیت د لیدلو څخه یقین راوړونکی به په شک کښی لویږی او غیر مسلم اقوام به د اسلام له دخوله ستانه (واپس) کیږی او پر تاسی د الله له لیاری د امتناع ګناه په غاړه کیږی چه د هغه سزا به ډیره سخته وی.

وَلَا تَشْتَرُوا۟ بِعَهْدِ ٱللَّهِ ثَمَنًا قَلِيلًا ۚ إِنَّمَا عِندَ ٱللَّهِ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٩٥﴾

او مه پیرئ (مه اخلئ) په عهد د الله (او بعثت د رسول الله) قیمت لږ؛ بیشکه هغه (ثواب) چه په نزد د الله کښی دی همغه خیر (غوره) دی تاسی ته که چیری یئ تاسی چه پوهیږئ (پخیر خپل).

**تفسیر:** پخوا له دی نه پخپلو منځونو کښی د قول ماتولو ذکر ؤ ـ اوس د الله تعالیٰ سره د قول ماتولو ذکر دی یعنی د مال په طمع خلاف الشرع حکم مه کوئ ځکه چه بالاخر دغسی مال د

ځان وبال گرځي هر هغه شي چه د شرعي سره موافق ستاسي په لاسونو کښې راشي همغه بهتر دی کذا فی «موضح القرآن» یا د ایفاء العهد کوم اجر چه د الله تعالیٰ له درباره ورکاوه کیږی، هغه د دغه قلیل ثمن څخه ډیر بهتر دی. ثمن ئی ځکه قلیل وفرمایه چه که ګرد (تول) جهان هم ورکړ شي، خو بیا هم هغه د آخرت په مقابل کښې قلیل او حقیر دی.

مَا عِنْدَكُمْ يَنْفَدُ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ بَاقٍ ۗ وَلَنَجْزِيَنَّ الَّذِيْنَ صَبَرُوْٓا اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٩٦﴾

هغه (مال د دنیا) چه تاسي سره دی فناء کیږی او هغه (خزانی د رحمت) چه الله سره دی باقي دی (فناء نه لری)؛ او خامخا به جزا ورکړو مونږ هرومرو (خامخا) (له خپل کبریائی درباره) هغو کسانو ته چه صبر ئی کړی دی (په طاعت او مصیبت او له معصیت نه) اجر د دوی په ډیر ښه د هغو نیکیو سره چه وو دوی ( په دنیا کښې) چه کولی به ئی.

**تفسیر:** بیا نو د دائم او باقي پریښوودل او د فاني او زائل خوښول د کوم ځای عقلمندی ده یعنی هغه کسان چه د الله تعالیٰ پر عهد ثابت قدم پاتي کیږی او ګرد (تول) مشکلات او مصاعب په صبر او استقامت سره پر ځان اخلی د هغه اجر له سره ضائع کیدونکی نه دی او د داسی ښو اعمالو بدل هرومرو (خامخا) ځمونږ له درباره ورکاوه کیږی.

مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهٗ حَيٰوةً طَيِّبَةً ۚ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٩٧﴾

هر چا چه وکړ نیک (عمل) له نارینه څخه یا له ښځی څخه حال دا چه دی مؤمن وی نو خامخا ژوندون به ورکړو هرومرو (خامخا) هغه ته ژوندون طیبه (پاکیزه)، او خامخا جزا به ورکړو هرومرو (خامخا) دوی ته اجر د دوی په ډیر ښه د هغو (نیکیو) سره چه وو دوی (په دنیا کښې) چه کولی به ئی.

**تفسیر:** په پاس آیت کښې د صابرینو او پر عهد باندی د وفاء کوونکیو د اجر ذکر ؤ ـ دلته د ګردو (تولو) صالحه ؤ اعمالو په متعلق یوه عمومی ضابطه بیان فرمائی ـ حاصل ئی دا دی هر

هغه نارينه يا ښځه چه په نيکو کارونو کښې معتاد شي په دی شرط سره چه هغه کار يوائې صورتاً نه؛ بلکه حقيقتاً نيک وی يعنی د ايمان او د صحيحه معرفت روح پخپل منځ کښې ولری، نو مونږ به هغه ته هرومرو (خامخا) پاک ـ صاف ـ مطهر ـ او خوندور ژوندون ورعنايت کوو. مثلاً په دنيا کښې حلاله روزی قناعت ـ د زړه غناء سکون ـ طمانيت ـ د ذکر الله لذت ـ د الله تعالىٰ د محبت خوند ـ د عبوديت د فرض په اداء کښې خوښی او د کامياب مستقبل د تصور هغه مزه ـ او د تعلق مع الله هغه حلاوت ورمرحمت کوو چه يو عارف ته مو ځکلی ؤ ـ او د هغه په توصيف او ستاينه کښې ئی داسی ويلی ؤ

د سنجرئ چترئ په شان می دی مخ تور شی!
که می په زړه کښې وی هوس د سنجرئ باچاهی
د نيمی شپی چه می موندلی باچاهی ده څه وقت
په يوی اوربشی به نه پيرم د «نيمروز» باچاهی

رښتيا ده! «**اهل الليل فی ليلهم الذ من اهل اللهو فی لهوهم!**» نو ځکه يو لوی جناب ويلی دی چه که سلاطين پر دغه کيف خبر شی چه د شپی پاسيدونکيو او د شپی وينښ کښيناستونکو ته څرنګه عجيب لذت او ښه دولت حاصليږی، نو د هغه د حاصلولو او په زور اخيستلو کښې به ئی هم داسی فوجونه ايستل، لکه چه د کوم ملک او وطن د اخيستلو پسی لښکر وباسی، په هر حال د قانت مؤمن پاک او خوندور ژوندون له هم دی ځايه شروع کيږی ـ وروسته د قبر د رسيدلو څخه د هغه رنګ لا ښائسته او منور کيږی. او هغه اخروی انتهاء پر همغه طيبه حيات کيږی چه د هغه په نسبت داسی ويلی شوی دی
«**حيات بلا موت وغنىٰ بلا فقر و صحة بلا سقم وملک بلا هلک و سعادة بلا شقاوة**» رزقنا الله تعالىٰ بفضله ومنه اياها!.
**تنبيه:** په دغه آيت کښې ئی دغه راوښود چه د لوی قرآن په نظر کښې د ښځو او د نارينه ؤ نيکی او کاميابی دپاره يوه ضابطه ده يعنی نارينه او ښځه بی له امتيازه د خپل حسب الحال سره سم په نيکی کولو سره پاک او مطهر ژوندون حاصلولی شی.

---

**فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ ﴿٩٨﴾**

---

نو کله چه لولی (ته) (پاک) قرآن نو پناه وغواړه (ته) په الله له شيطان رټلی شوی (په شعلو سره).

---

**تفسير:** په حديث کښې راغلی دی «**خيرکم من تعلم القرآن وعلمه**» ـ دير غوره له ستاسی

هغه څوک دی چه قرآن زده کوی او نورو ته ئی هم ورښیئ» معلوم شو چه د مؤمن دپاره د لوی قرآن قرائت ډیر ښه کار دی او په پخوانیو آیاتونو کښی پر ښو کارونو د دوو څلو اجر ورکولو ذکر شوی ؤ ـ نو ځکه دلته د قرآن د قرائت ځینی آداب تعلیم فرمائی څو کوم سړی د بی احتیاطی د دغه ډیر ښه کار له اجره بی برخی پاتی نشی او خپل ثواب ضائع نه کړی ـ د شیطان زیار (محنت) او کوښښ تل په دغه کښی دی چه د انسانانو ښو کارونو ته نقصان ورسوی تر څو ئی تری ستون کړی، خصوصاً د لوی قرآن د قرائت پشان د یوه داسی متبرک او مقدس کار څخه چه د ګردو (تولو) نیکیو سرچینه ده هرومرو (خامخا) ممانعت کوی او په سره سینه ورته نشی کتلی ـ او که ئی سره له زیاره او کوښښه د قرآن کریم په نه لوستلو باندی بری ونه موند، نو په داسی آفاتو او مشکلاتو کښی ئی مبتلا کوی چه د لوی قرآن قرائت د حقیقی فائدی له حاصلولو څخه مانع شی ـ له دغو ګردو (تولو) مغوی (تبتونکو) تدابیرو او په مخ کښی راتلونکیو خرابیو د حفاظت طریقه هم دغه کیدی شی ـ کله چه مؤمن د قرآن د قرئت اراده کوی، نو ړومبی دی د زړه په صدق سره پر الله تعالیٰ اعتماد او توکل وکړی او د مردود شیطان د پلمو (تدبیرونو) او وسوسو څخه دی وتښتی او د پاک الله په پناه کښی دی ځای ونیسی ـ اصلی استعاذه (په پناء کښی راتلل) په زړه سره کیږی ـ مګر د زړه او د ژبی د موافقت دپاره د لوی قرآن د قرائت په شروع کښی په ژبی سره هم «**اعوذ بالله من الشیطٰن الرجیم**» ویل ضروری دی.

**تنبیه:** (څرنګه چه د پاک قرآن ابتداء په «**تعوذ**» سره مسنونه ده، نو ځکه هر لوستونکی ته ښائی چه پخوا د عظیم الشان قرآن له لوستلو څخه «**تعوذ**» ووائی. د «**تعوذ**» ماثوره عبارت هم داسی دی لکه چه پاس ولیکل شو. معنی ئی دا ده چه «پناه غواړم په الله تعالیٰ له شره د شیطان رټلی شوی» شیطان په وزن د فیعال له شطن شطونا څخه مشتق دی. (ای بعد بعیداً) د خدای خوار کړی عزازیل تسمیه په شیطان سره د دی لامله ده (له وجی) شوی ده چه دی د الله تعالیٰ له رحمته لری دی. ځینی وائی شیطان په وزن د فعلان له شاط یشیط شیطا ځنی اشتقاق موندلی دی چه په دی تقدیر معنی ئی هلک هلاکا سره کیږی).

إِنَّهُۥ لَيْسَ لَهُۥ سُلْطَٰنٌ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٩٩﴾

بیشکه دا (شیطان) نشته ده ته (هیڅ قدرت) تسلط او غلبه پر هغو کسانو چه ایمان یی راوړی دی او پر رب خپل توکل (اعتماد) کوی.

**تفسیر:** یعنی هر څوک چه پر پاک الله اعتماد او توکل وکړی او له هغه څخه پناه وغواړی، پر هغه، شیطان په زور او قوت سره نه حاوی کیدی شی ـ که داسی کوم سړی تش د څه لږ وقت له مخی د بشریت په مقتضیٰ د شیطان په پلمه (تدبیر) کښی ولویږی، خو بیا هم شیطان پری خپله

کامله قبضه او تسلط نشي قایمولی ـ او ډیر ژر به د ده سترګی د هم دغی استعاذی پر برکت خلاصیږی ـ او غفلت به ئی نه متمادی کیږی ـ لکه چه په ۹ جزء د الاعراف په (٢٤) رکوع ٢٠١-٢٠٢ آیت کښی راغلی دی ﴿إِنَّ الَّذِينَ اتَّقَوْا إِذَا مَسَّهُمْ طَائِفٌ مِّنَ الشَّيْطَانِ تَذَكَّرُوا فَإِذَا هُم مُّبْصِرُونَ وَإِخْوَانُهُمْ يَمُدُّونَهُمْ فِي الْغَيِّ ثُمَّ لَا يُقْصِرُونَ﴾

## إِنَّمَا سُلْطَانُهُ عَلَى الَّذِينَ يَتَوَلَّوْنَهُ وَالَّذِينَ هُم بِهِ مُشْرِكُونَ ﴿١٠٠﴾ ع

بیشکه خبره هم دا ده چه تسلط د شیطان پر هغو کسانو دی چه دوستی کوی دوی له ده سره، او پر هغو کسانو دی چه دوی له دغه (الله) سره شریک ګرځوونکی دی (د بل شی).

**تفسیر:** یعنی هغه کسان چه په لوی لاس شیطان خپل ملګری او رفیق وګرځوی او د دی په ځای چه پر پاک الله اعتماد او توکل وکړی پر شیطان زړه تړی او پری مطمئن او داده کیږی ـ ګواکی شیطان له الله تعالیٰ سره شریک دروی ـ یا د ده په اغواء سره نور شیان له الله سره شریک کوی ـ نو پر داسی افرادو د شیطان پوره قبضه او تسلط دی او په هر دول (طریقه) ئی چه زړه وغواړی د خپلو ګوتو په اشارو سره ئی دی خوا او هغی خوا ته نڅوی او ګډوی ـ او هر لوری ته چه زړه ئی وشی بیائی ئی.

## وَإِذَا بَدَّلْنَا آيَةً مَّكَانَ آيَةٍ ۙ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُنَزِّلُ قَالُوا إِنَّمَا أَنتَ مُفْتَرٍ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٠١﴾

او کله چه بدلوو مونږ (رالیږو کوم ناسخ) آیت په ځای د (بل منسوخ) آیت (لمصالح الوقت) حال دا چه الله ته ښه معلوم دی هغه چه رالیږی نو وائی دا (کفار نبی ته) بیشکه هم دا خبره ده چه ته دروغ تړونکی ئی (په الله)؛ (نه ده داسی لکه چه دوی ئی وائی) بلکه زیات د دوی نه پوهیږی (په حکمت د نسخی).

**تفسیر:** پخوا ئی حکم ورکړ چه د قرآن عظیم الشان د لوستلو په وقت کښی د شیطان رجیم له تګی توری څخه پناه وغواړئ چه هغه په دغه ښه او مبارک کار کښی څه موانع او مشکلات دروراندی نه کړی ـ دلته د هغه د ځینو موانعو ذکر کوی چه د پاک قرآن په متعلق ئی هغه پیدا کوی. واقعه خو دا ده چه پوره قرآن خو یو ځلی نه دی نازل شوی بلکه موقع په موقع د هغه

آیات نازلیده مثلاً په اول کښی ئی د کفارو له قتاله ممانعت فرمایلی ؤ ـ څه مدت وروسته مسلمانانو ته امر وکړ شو چه له کفارو او مشرکانو سره جهاد وکړی. یا په ابتداء کښی ئی حکم فرمائلی ؤ ـ ﴿قُمِ الَّيْلَ إِلَّا قَلِيلًا نِّصْفَهُ﴾ الآیة ـ لږ مدت وروسته په همغه «معظمه مکه» کښی دغه آیت نازل شو ﴿عَلِمَ أَن لَّن تُحْصُوهُ فَتَابَ عَلَيْكُمْ فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ﴾ الآیة - کفارو د داسی احکامو د آوریدلو څخه اعتراض کاوه ـ چه دغه څرنګه د پاک الله کلام کیدی شی؟ آیا الله تعالیٰ (معاذالله) له بیخبری څخه د هغی یوی خبری حکم درکړی ؤ؟ بیا چه خبر شو نو بل حکم ئی صادر کړ؟ معلومیږی چه دغسی خبری ته له خپله ځانه جوړوی که نه د الله تعالیٰ کلام له سره پر دغسی احکامو نشی مشتملیدی چه یوه ورځی یو شی ووائی ـ او بله ورځ بل شی ووائی ـ ممکن ؤ چه هم داسی وساوس او شبهات شیطان د ځینو مسلمانانو په زړونو کښی القاء کړی، نو د هغه جواب ورکوی چه دغه ستاسی اعتراض محض جهالت او نادانی ده. که تاسی ته د نسخی حقیقت معلوم وی، نو له سره به مو داسی الفاظ له خپلی ژبی څخه نه وی ایستلی، د نسخی مطلب تش هم دغومره دی چه د یوه میعادی حکم د میعاد د پوره کیدلو څخه وروسته بل حکم ولیږلی شی ـ آیا که یو طبیب د لسو یا شلو ورځو دپاره د منضج نسخه تجویز کړی ـ او وروسته له هغه د مسهل تجویز وکړی ـ نو دغه تجاویز د هغه طبیب پر لا علمی محمول کاوه شی؟ یا که هغه سړی چه داسی خبری کوی پخپله جاهل او ناپوه دی؟ الله تعالیٰ ته پخپله ښه معلوم دی چه په هر وقت کښی چه هر حکم ئی نازل فرمایلی دی همغه درست او صحیح دی - یعنی هغه روحانی غذاء یا دواء چه تجویز کړی شوی ده ـ تر کوم حده پوری د روحانی مریضانو له مزاجه او حالاتو سره مناسبه ده؟.

---

قُلْ نَزَّلَهُ رُوحُ الْقُدُسِ مِن رَّبِّكَ بِالْحَقِّ لِيُثَبِّتَ الَّذِينَ آمَنُوا وَهُدًى وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ ﴿١٠٢﴾

---

ووایه (ای محمده دغو کفارو ته چه) نازل کړی دی دغه (قرآن) روح پاک (جبریل) (له طرفه) د رب ستا په حقه سره (بلا شبهه) دپاره د دی چه ثابت کړی (په حقانیت د قرآن) هغه کسان چه مؤمنان دی او هدایت دی او زیری (د جنت) دی دپاره د مسلمانانو).

---

**تفسیر:** یعنی دغه ځما یا ځما پشان د کوم بل انسان جوړ کړی کلام نه دی، دا خو هغه کلام دی چه بلا شبهه ځما رب د روح القدس (پاکی پرښتی) جبریل الامین په ذریعه د حکمت او مصلحت سره موافق پر ما باندی نازل فرمایلی دی ګواکی ﴿مِن رَّبِّكَ﴾ ئی ودیل او تنبیه ئی وفرمایله چه د دغه لوی قرآن نازلوونکی هغه اعلیٰ او ارفع او اقدس ذات دی چه پخپله محمد

صلی الله علیه وسلم ئی په داسی یوی حیرت انگیزی طریقی سره او په داسی اعلیٰ او اکمل اخلاق سره تربیه وفرمایه چه ستاسی په مقابل کښی دی. او د روح القدس د بیان فرمایلو څخه ښائی چه په دی لوری اشاره وی هغه کلام چه حامل ئی ﴿ رُوحُ الْقُدُسِ ﴾ گرځولی شوی دی ښایی چه د روحانیت طهارت ـ او د ملکیه ؤ صفاتو مجسمه وی ـ لکه چه وی گوریٔ چه په دغه شان او اوصاف تر اسمان لاندی بل داسی افصح ابلغ او معجز کلام په نظر نه راځی او دغه قرآن ئی څکه نازل فرمائلی چه تینګ کړی په حقیقت د دی کلام باندی زړونه د هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی یعنی موقع په موقع او په تدریج سره د احکامو او آیاتونو د نزول د لیدلو څخه د ایمان لرونکی زړه قوی او اعتقاد ئی پخیږی چه ځمونږ رب ځمونږ له هره حاله او ځمونږ د ژوندانه له هر یوه دور څخه هم پوره واقف او ښه خبردار او په نهایت حکمت ځمونږ تربیت فرمائی څرنګه چه حالات ځمونږ رادمخه کیږی د هغه سره موافق ځمونږ هدایت او لیار ښوونه کوی. او پر هر کار باندی د هغه سره مناسب زیری آوروی.

---

وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّهُمْ يَقُولُونَ إِنَّمَا يُعَلِّمُهُ بَشَرٌ لِسَانُ الَّذِي يُلْحِدُونَ إِلَيْهِ أَعْجَمِيٌّ وَهَٰذَا لِسَانٌ عَرَبِيٌّ مُبِينٌ ﴿١٠٣﴾

---

او خامخا په تحقیق ښه معلوم دی مونږ ته چه بیشکه دوی وائی چه بیشکه هم دا خبره ده چه ښوونه کوی ورته انسان. (او په واقع کښی داسی نه دی څکه چه) ژبه د هغه سړی چه دوی نسبت د ښوونی کوی هغه ته عجمی ده او دغه قرآن په ژبه د عربی ده ښکاره (فصیحه ـ بلیغه چه د عجمی کړکیچونو څخه بیخی مبراء ده).

---

**تفسیر:** یعنی منکرانو به ویل چه **(العیاذ بالله)** لوی قرآن د الله تعالیٰ کلام نه دی ـ که نه نسخ به په دغه کښی ولی واقع کیدی او نه دغه ای محمده! ستا کلام کیدی شی ـ څکه چه ستا امی توب خو ګردو (تولو) ته معلوم او مسلم ؤ، یو داسی امی چه نه ئی لاس پر کوم کتاب لګیدلی وی او نه ئی قلم پخپل لاس اخیستی وی، بلکه سره له اعلیٰ درجی قریشی توبه تر څلویښتو کلو پوری یو شعر یی هم پر ژبه نوی جاری شوی چه په شعر ویلو کښی د عربو تر وړکیو پوری هم فطری مهارت او ذاتی لیاقت درلود (لرلو) ـ او د ادبی قوت او قدرت او ملکی خاوندان وو، نو څرنګه ګمان به کیدی شی چه بی تعلیمه او تعلمه یو ناڅاپه به ئی داسی کتاب راجوړ کړی راوړی وی چه په دغه اندازه پر عجیبو او غریبو علومو او حکمو او وضعیتو او هیئت بدلوونکو قوانینو او احکامو باندی مشتمل وی ـ لاعلاجه ښائی چه منکر سړی داسی ووائی چه کوم بل چا به ده ته دغه خبری ورښودی او دغسی معجز کلام به ئی ورجوړاوه ـ نو دغه به څوک وی؟ چه د

هغه د دغه بی نهایته قابلیت څخه د دغه عظیم الشان قرآن پشان یو مستطاب کتاب تیار شوی دی ـ د ده په نامه د منکرینو په زعم اختلافات ؤ د جبر ـ یسار ـ عائش ـ یعیش ـ څو تنو عجمی مریو په نسبت ویلی شوی دی چه هغوی نصرانیت پریښی او د اسلام مذهب ئی قبول کړی ؤ ـ وائی چه دوی کله نا کله د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حضور مشرف کیدل ـ یا به پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم دوی لیدل مگر دا ډیر د تعجب ځای دی چه د داسی لویانو او پوهانو انسانانو په نامه هم تاریخ نه دی خبر او هغه ئی په پوره تیقین او تعین سره ضبط او قید کړی نه دی. او د دوی ځنی د تش زده کوونکی او نقل کوونکی (یعنی ځموږ امجد محمد د الله صمد رسول احمد صلی الله علیه وسلم) پر قدمونو گرد (تول) جهان لوبیږی ـ تر دی حده پوری چه هغه کسان چه د دوی په نبوت کښی څه تردید هم لری خو بیا هم دوی ته په لوړ غږ سره د دنیا لوی مصلح او کامل انسان وائی. په هر حال د مشرکینو د دغه د سفاهت د اعتراض څخه دغه خبره خو ضرور ثابته شوه چه د بعثت څخه پخوا محمد صلی الله علیه وسلم أمی او نالوسته ؤ ـ او د دوی په زعم دغه یوه منلی شوی خبره وه چه قرآنی علوم او معارف د دوی د مسلمه امیت سره بیخی نشی تطبیق کیدی نو ځکه د دغی خبری ویل لازمیږی چه بل کوم سړی دغه عالی خبری وربښیی بلا شبهه چه زموږ پاک رسول الله ته هم بل څوک دغه مقدسی خبری وربښولی وی، لیکن دغه ښوونکی کوم یو بشر او انسان نه ؤ ـ بلکه هغه ځموږ دغه قدیر رب دی چه پخپله داسی ارشاد فرمائی ﴿ ٱلرَّحۡمَٰنُ عَلَّمَ ٱلۡقُرۡءَانَ ﴾

﴿ لِّسَانُ ٱلَّذِی یُلۡحِدُونَ إِلَیۡهِ أَعۡجَمِیٌّ ﴾ الآیة ـ ژبه د هغه سړی چه دوی نسبت د ښوونی کوی هغه ته عجمی ده او دغه قرآن په ژبه د عربی ده ښکاره فصیحه ـ بلیغه چه د عجمی کړکیچونو څخه بیخی مبراء ده ) یعنی که تاسی د لوی قرآن په خارقه علومو او د هغه د اعجاز په نورو وجوهو باندی د خپل جهالت او غباوت لامله (له وجی) نه پوهیږئ نو د هغه د ژبی له اعجازه، د ده د فصاحت او بلاغت ادراک خو لږ څه کولی شئ چه د هغه په متعلق څو څو ځلی تاسی ته دعوت درکړی شوی دی او د دغی خبری اظهار او اعلان په تکرار سره شوی دی چه که تول پیریان او انسانان متفقاً سره راتول شی نو د دغه کلام یوه لړه نمونه او مثال هم نشی راوړاندی کولی ـ نو بیا د دی کلام چه د هغه د نظیر او مماثل راوړلو څخه د عربو تول شعراء ـ فصحاء ـ بلغاء او پوهان بلا استثناء گرد (تول) سره عاجز او پاتی وی نو یو مجهول او معلول بازاری اعجمی ـ مریی څخه څرنگه داسی یوه هیله (امید) کیدی شی چه داسی یو معجز کلام به له خپله ځانه جوړولی شی؟ که په تمامو عربو کښی کوم سړی بالفرض داسی کلام جوړولی شوی نو هغه هم دا ځموږ محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ؤ مگر ماسواء له عظیم الشان قرآنه د محمدی صلی الله علیه وسلم کلام بله لویه ذخیره د لوی قرآن پر بیان کړی شوی موضوعاتو موجود دی چه سره له خپله انتهائی فصاحت د پاک قرآن له یوه ډیره وړوکی سورت سره هم برابری نشی کولی.

إِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ لَا يَهْدِيهِمُ اللَّهُ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٠٤﴾

بیشکه هغه کسان چه نه راوړی ایمان په آیتونو د الله (او نه وائی چه دا له طرفه د الله دی) نه ښیی دوی ته الله (لیاره د نجات او جنت) او شته دوی ته عذاب دردناک (په سبب د انکار د قرآن او نبی آخر زمان

**تفسیر:** یعنی سره د ښکاره ؤ دلائلو له وجوده که یو سړی دغه خبره په خپل زړه کښې تینګه کړی ـ چه زه به خامخا پری باور او یقین نه کوم نو الله تعالیٰ هم هغه ته تر مقصده پوری د رسیدلو لیاره نه ورښیی او هغه ګردی (تولی) قواوی تری سلبوی څومره چه وېوهولی شی له سره پری ونه پوهیږی بد اعتقاده سړی تل له هدایته بې برخې پاتی کیږی او بالاخر د سختو سزاوو مستحق ګرځی.

إِنَّمَا يَفْتَرِي الْكَذِبَ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ
بِآيَاتِ اللَّهِ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْكَاذِبُونَ ﴿١٠٥﴾

بیشکه هم دا خبره ده چه تړی دروغ هغه کسان چه نه راوړی ایمان په آیتونو د الله (چه قرآن دی)، او هم دغه کسان هم دوی دی دروغجنان.

**تفسیر:** یعنی تاسی ته داسی وائی! ﴿ إِنَّمَا أَنْتَ مُفْتَرٍ ﴾ حال دا چه ستاسی امانت ـ صداقت ـ او دیانت لا له پخوا څخه ښکاره او مسلم او ستاسی له هر قول او فعل او وضع او هیئت څخه ظاهر ؤ ـ آیا د دروغو ویونکو څیره ـ طور ـ طریقه خبری او اتری هم داسی وی؟ دروغ جوړول خو د اشقیاؤ دود او دستور دی ـ هغه کسان چه سره د الله تعالیٰ د قدرت د دلائلو د لیدلو هم یقین او باور نه کوی هم دوی دروغجنان دی او له دغه څخه به بل کوم لوی دروغ وی چه انسان د پاک الله خبری ته دروغ ووائی.

مَنْ كَفَرَ بِاللَّهِ مِنْ بَعْدِ إِيمَانِهِ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ وَلَٰكِنْ مَنْ شَرَحَ بِالْكُفْرِ صَدْرًا فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِنَ اللَّهِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٠٦﴾

هر څوک چه کافر شو پر الله وروسته له ایمان راوړلو د ده (نو پری غضب دی د الله) مگر هغه څوک چه زور پری وکړ شو (او مجبوراً د کفر کلمه ئی وویله) حال دا چه زړه د ده آرام نیونکی وی په ایمان سره ولیکن هغه څوک چه ارته کړی په کفر سره سینه (خپله چه راضی شی پری اعتقاداً) نو پر دوی باندی غضب دی له (طرفه د) الله، او شته دوی ته عذاب لوی (اخروی په سبب د ارتداد).

**تفسیر:** یو خو هغه مجرمان دی چه د سلهاؤ دلائلو او آیتونو په لیدلو هم نه متیقن کیږی مگر له دوی څخه دیر لوی مجرم هغه دی چه د یقین راوړلو او تسلیم کولو څخه وروسته د شیطانی شبهاتو او وساوسو څخه متأثر شی او له صداقته انکار وکړی لکه عبد الله بن ابی سرح چه د ایمان له راوړلو څخه وروسته مرتد شو (العیاذ بالله) د داسی کسانو سزا وروسته بیان فرمائی ـ په منځ کښی په ﴿ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ ﴾ الآیة ـ کښی یوه ضروری استثنا ئی وفرمایله یعنی که کوم مسلمان د زړه په صدق سره برابر په ایمان قائم وی او د یوی لمحی له مخی هم ایمانی رڼا (رڼرا) او قلبی طمانیت د ده له زړه څخه بیل شوی نه وی مگر تش په کوم خاص حالت کښی د کوم خورا (زیات) دیر زور او جبر او زبردستی لامله (له وجی) مجبور او لا علاجه شی او د دیر شدید خوف له سببه د خپل ژوندانه ساتلو له خاطره تش په ژبه منکر شی یعنی کومه کلمه د اسلام په خلاف ووائی، خو په دی شرط چه په دغه وقت کښی هم زړه ئی مطمئن او هیڅ قسم شک، شبهه او تردد پکښی نه وی ـ بلکه د دغه د ژبی د الفاظو په نسبت هم سخت کراهیت او نفرت ولری نو داسی شخص مرتد نه دی ـ بلکه خامخا مسلمان گڼلی کیږی هو! له دی نه لوی مقام او لوړه مرتبه دا ده چه انسان مرگ قبول کړی خو د خپلی ژبی څخه داسی یو لفظ نه باسی ـ لکه چه د حضرت بلال ـ حضرت یاسر ـ حضرت سمیه ـ حضرت حبیب بن زیدالانصاری او حضرت عبدالله بن حذافه رضی الله عنهم او د نورو واقعات په تواریخو او سیرو کښی شته او مونږ د اختصار په اعتبار دلته هغه نشو لیکلی ـ ښه خو به دا وی چه د دغو مطالبو د پوهیدلو دپاره تفسیر ابن کثیر ولوست شی.

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمُ اسْتَحَبُّوا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا عَلَى الْاٰخِرَةِ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿١٠٧﴾

دا (لوی اخروی عذاب) په سبب د دی دی چه دوی غوره کړی دی ژوندون لږ خسیس پر (اعلیٰ ژوندانه د) آخرت ـ او بیشکه الله نه ښیی لیاره (د استقامت) قوم کافرانو ته.

**تفسیر:** یعنی داسی منکرانو ته چه دنیوی ژوندون د خپل مقصود کعبه وګرځوی ـ د بری او کامیابی لیار کله په برخه کیږی ـ حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «هر څوک چه له ایمانه غاړه غړوی ـ یا د دنیوی غرض لامله (له وجی) یا د ځان له ویری یا د اخوت او قومیت په لحاظ، یا د پیسو په هیله (امید) د آخرت په مقابل کښی دنیا عزیزه وګڼی هغه ته به د آخرت ښیګڼه (فائده) څنګه ورسیږی؟ که د ځان د ویری تلفظ پری وکړی نو کله چه د ویری وقت تیر شی نو بیا دی توبه او استغفار وکړی او سم ثابت دی شی.»

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ طَبَعَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَسَمْعِهِمْ وَاَبْصَارِهِمْ ۚ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْغٰفِلُوْنَ ﴿١٠٨﴾

دا (کفار) همغه کسان دی چه مهر وهلی دی الله پر زړونو د دوی (چه نه قبلوی حق) او په غوږونو د دوی (چه نه اوری حق) او په سترګو د دوی (چه نه وینی آثار د قدرت)، او دغه کسان (یعنی کفار) هم دوی دی غافلان (له عقبیٰ).

**تفسیر:** یعنی د دنیا غوښتلو او هوا پرستی په نشه کښی داسی مست او بی هوشه شول چه د دوی د هوش او په سد کیدلو هیڅ هیله (توقع) او امید نشو پاتی دوی د الله تعالیٰ ګرد (تول) ورعطا شوی قوتونه ضائع کړل بالاخر پخپلو غوږونو د حق غږ د آوریدلو ـ او پخپلو سترګو د حق د دلائلو د لیدلو او پخپلو زړونو د حق د خبرو د پوهیدلو توفیق تری سلب کړی شو ـ د مهر وهلو مطلب پخوا له دی نه د «البقرة» په سورت او نورو ځایونو کښی لیکلی شوی دی هلته دی ولوست شی!.

لَا جَرَمَ اَنَّهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿١٠٩﴾

دا خبره واقعي ده بلا شبهه چه بيشكه دوی په آخرت كښې هم دوی دی زيانكاران (چه عمر ئی حبطه لاړ).

**تفسير:** يعنی هغه كسان چه د خپلو بی اعتداليو او غلط كاريو څخه د پاک الله ورعطاء كړی قوتونه تباه او بيكاره كړی وی ـ او تش دنيا ئی د خپل مقصود كعبه گرځولی وی نو له هغوی څخه بد او خراب انجام به د بل چا وی؟.

ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ هَاجَرُوا مِنْ بَعْدِ مَا فُتِنُوا ثُمَّ جَاهَدُوا وَصَبَرُوا إِنَّ رَبَّكَ مِنْ بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿١١٠﴾

پس له دی بيا بيشكه رب ستا دپاره د هغو كسانو چه هجرت ئی كړی دی (له خپله وطنه) وروسته له هغه چه مفتون شوی دی (په عذابونو) بيا جهاد ئی كړی دی او صبر ئی كړی دی بيشكه رب ستا وروسته له دغه (هجرت، جهاد او صبر) نه خامخا ښه مغفرت كوونكی دی (د خطياتو) ډير رحم والا دی (په انعام د اجر او ثواب سره).

**تفسير:** په مكی معظمی كښې ځينی كسان د كافرانو له ظلم او تيری څخه ښوئيدلی وو يا تش په ژبه ئی د كفر لفظ ويلی وو ـ وروسته له هغه ئی هجرت وكړ او جهاد ئی وكړ او په ډير استقلال او استقامت پر اسلام قائم پاتی شول كله چه دوی دومره په اسلامی كارونو كښې برخه واخيسته، نو هغه تقصير ئی ورمعاف شو او د الله تعالیٰ مهربانی پری مبذوله شوه.
يو بزرگ ؤ چه «عمار رضی الله تعالیٰ عنه» نوميده د ده پلار «ياسر رضی الله تعالیٰ عنه» وه چه دغه ميره (خاوند) او ښځه د كفارو د ډير ربړولو (تكليفولو) او رنځ او درد رسولو لامله (له وجی) اكر كه شهيدان شول ـ خو بيا هم د كفر يو لفظ ئی هم ونه وايه ـ دغه د مسلمانانو ړومبی وينی دی چه د اسلام په لياره كښې توئی شوی ـ ليكن د دوی ځوی «عمار رضی الله تعالیٰ عنه» د خپل ځان له ويری هغه لفظ ووايه ـ خو وروسته له نجاته په ژړا او انګولا د رسول الله «صلی الله عليه وسلم» په حضور مشرف شو ـ نو دلته دغه پاس آيت نازل شو رضی الله تعالیٰ عنهم اجمعين.

يَوْمَ تَأْتِي كُلُّ نَفْسٍ تُجَادِلُ عَنْ

نَفۡسِهَا وَتُوَفّٰى كُلُّ نَفۡسٍ مَّا عَمِلَتۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ﴿١١١﴾

(یاد کړه ای محمده !) هغه ورځ چه را به شي هر يو (نيک او بد) نفس چه جګړه (سوال او ځواب) به کوی لپاره د (نجات د) ځان خپل او پوره به ورکړ شي هر نفس ته (جزاء د) هغه عمل چه کړی ئی دی حال دا چه په دوی باندی به ظلم ونه کړ شي (په تقليل د حسناتو يا تکثير د سيئاتو)

**تفسير:** يعنی د يوه په ځای به بل څه نشي ويلی. مور - پلار - خور - ورور - ښځه - اولاد - احباب او اقارب هيڅوک به نه پکاريږی . هر سړی به پخپل غم او فکر کښی اخته وی چه څه دول (طريقه) د خپل ځان دپاره يو مخلص پيدا کړی راز راز (قسم قسم) دروغ او رښتيا خبری به د خپل ځان د برائت او عذر دپاره جوړوی او جواب او سؤال او جګړی به کوی - چه د ځان دپاره نجات حاصل کړی.

﴿ وَتُوَفّٰى كُلُّ نَفۡسٍ ﴾ الآية - او پوره به ورکړی شي هر نفس ته جزاء د هغه عمل چه کړی ئی دی حال دا چه په دوی باندی به ظلم ونه کړی شي په تقليل د حسناتو يا په تکثير د سيئاتو) يعنی د نيکی په اجر او ثواب کښی به هيڅ تقليل نه واقع کيږی او د بدی سزا به له استحقاقه زياته نه ورکوله کيږی.

وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا قَرۡيَةً كَانَتۡ اٰمِنَةً مُّطۡمَئِنَّةً يَّاۡتِيۡهَا رِزۡقُهَا رَغَدًا مِّنۡ كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتۡ بِاَنۡعُمِ اللّٰهِ فَاَذَاقَهَا اللّٰهُ لِبَاسَ الۡجُوۡعِ وَالۡخَوۡفِ بِمَا كَانُوۡا يَصۡنَعُوۡنَ ﴿١١٢﴾

او بيانوی الله مثل د يو کلی چه ده (دا کلی) په امن کښی (له قتله او غارته) په آرام (او هوسا اهل د دی) چه راتله دغه کلی ته رزق روزی (د اهل) د دی ډيره پريمانه له هر ځايه (له هره طرفه) نو کافر (ناشکره) شو (اهل د) هغه په نعمتونو د الله نو وڅکاوه په (اهل د) دی باندی الله کالی (کپړی) د لوږی او ويری (چه لوږه او ويره ئی پری لازمه او محيطه وګرځوله لکه جامه) په سبب د هغو (عملو) چه وو (دوی چه کول به ئی.

**تفسير:** (آمنة مطمئنة) يعنی نه د باندی د دښمن څه فکر او انديښنه وه او نه د دننه څخه کوم

قسم فکر او تشویش، په ډیر امن او هوسائی (آرام) سره به ئی ژوندون کاوه او خوراک دپاره غلې ـ دانې ـ میوی او نور ور راوړلی کیدی او هر څیز به ئی په افراط ؤ. په کور ناست دوی ته هر قسم نعمت وررسیده. نو د هغه کلی وسیدونکو د الله تعالیٰ د هغو نعمتونو قدر ونه کړ او په دنیوی خوندونو کښې داسی مشغول او مصروف شول چه په دغه غفلت او مستی کښې حقیقی منعم هم د دوی له یاده ووت، بلکه د هغه په مقابل کښې ئی بغاوت وکړ، بالاخر الله تعالیٰ د دغې ناشکری او د نعمت د کفران خوند پر دوی وڅکاوه چه د امن او هوسائی (آرام) په ځای خوف، ویره او د روزی د ډیروالی او پریمانی په ځای د لوږی او قحط په مصیبت کښې ئی داسی اخته کړل، لکه چه کالی (کپړی) د خپل اغوستونکی چپ چاپیر احاطه کوی او یوه شیبه لوږه او ویره ـ قحط او خوف له دوی نه نه بیلیده.

شیخ الهند د دی آیت ترجمه داسی فرمائلی ده «او ښیی الله یو مثال یو کلی وه په امن او دادینه راتله دی ته د فراغت روزی له هر ځایه بیا ناشکری ئی وکړله د الله د احسانونو بیا وڅکاوه پر دی باندی الله خوند چه د دی د اهل د ځان کالی (جامه) شوه لوږه او ویره په بدل د هغه چه دوی کاوه.»

وَلَقَدْ جَآءَهُمْ رَسُولٌ مِّنْهُمْ فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَهُمُ الْعَذَابُ وَهُمْ ظَٰلِمُونَ ﴿١١٣﴾

او خامخا په تحقیق راغلی ؤ دوی ته رسول له (جنسه د) دوی نو نسبت د دروغو ئی وکړ هغه ته نو ونیول دوی لره عذاب (د لوږی او ویری) حال دا چه دوی ظالمان وو (په شرک او تکذیب سره).

**تفسیر:** علاوه پر هغو ظاهری نعمتونو چه پاس مذکور شول یو ډیر لوی او مهم باطنی نعمت هم هغوی ته ورکړی شوی ؤ ـ یعنی د دوی له قومه او له نسبه ئی یو داسی رسول ورلیږلی وو ـ چه د هغه د اتباع په وسیله ئی د الله د خوښی ډیر لوړ مقامات هم حاصلولی شو مگر دوی د اتباع او تصدیق په ځای د ده پر تکذیب او مخالفت ملا وتړله او هم داسی پرله پسی په کندو او ژورو کښې لویدل، بالاخر د قدیمی سنت الله سره سم گرد (تول) ظالمان او گنهکاران د الله تعالیٰ په عذاب کښې اخته او دوی ئی سره تول راگیر کړل بیا نو د دوی د نجات دپاره د هیچا هیڅ یو تدبیر پر مخ تګ ونه کړی شو ـ ځینی مفسرین وائی چه په دغه آیت کښې د کوم معین کلی تذکره نه ده محض د تمثیل په دول (طریقه) د کوم تباه او ویجاړ شوی کلی لا علیٰ التعین حواله ئی ورکړی ده، یا خو د داسی یو فرضی کلی وجود ئی فرض کړی او د مکی معظمی کفارو ته تنبیه ورکړی شوی وه چه که تاسی هم داسی وکړئ نو تاسی سره به هم داسی معامله

کیدی شی نو د کفران نعمت او د رسول الله د تکذیب او عداوت له سزا څخه مه بیفکره کیږئ! د ځینو علماؤ په نزد په دغه مثال کښې له کلی څخه مراد مکه معظمه ده چه هلته هر قسم امنیت او طمانیت ؤ او سره له دی چه یوه غیر ذی زرع وادی وه خو راز راز (قسم قسم) میوی دانی غلی او نور د دی په لوری راښکودلی کیدی ﴿ اَوَلَمْ نُمَكِّنْ لَّهُمْ حَرَمًا اٰمِنًا يُّجْبٰٓى اِلَيْهِ ثَمَرٰتُ كُلِّ شَيْءٍ ﴾ (۲۰ جزء د القصص (۵۷) آیة (٦) رکوع) مگر مکیانو (مکی والؤ) د دغو نعماؤ هیڅ قدر ونه پیژندو، په شرک او عصیان او بیحیائی او اوهام پرستی کښې لگیا او منهمک شول، بیا الله تعالیٰ له گردو (تولو) نعمتونو څخه لوی نعمت د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په بعثت سره دوی ته ور ولیږه، نو دوی د هغه په انکار او تکذیب کښې هیڅ کمی ونه کره ﴿ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ بَدَّلُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ كُفْرًا وَّاَحَلُّوْا قَوْمَهُمْ دَارَ الْبَوَارِ ﴾ (۱۳ جزء د ابراهیم د سورت (۲۸) آیت (۵) رکوع ) بالاخر الله تعالیٰ د امن او اطمینان په ځای د مسلمانانو مجاهدینو ویره د دوی په زړونو کښې واچوله او د فراخی او پریمانی روزی په ځای اوه کاله قحط ئی پر دوی مسلط کړ چه په هغه کښې د سپیو او نورو مردارو تر غوښو پوری هم دوی وخوړل بیا د «بدر» په غزا کښې د اسلامی غازیانو له لاسه پر دوی د الله تعالیٰ عذاب ورگډ شو دلته خو داسی وشو - د بل لوری هغه خلق چه د دغو ظالمانو له جور، ستم او تیری څخه پکو (تنگ ) شوی وو - د دیرو مصائبو او زړه تنگی لامله (له وجی) خپل کور او کهول به ئی پریښودل او تښتیدل، نو دغو کسانو ته پاک الله له پخوا څخه د هستوگنی دیر ښه ځایونه ور په برخه کړل - او د دښمنانو له خوفه ئی مامون او مصئون کړل د روزی ورونه ئی پری ورپرانستل، پر زورورو او زبردستو دښمنانو ئی فتح او بری ورپه برخه کړ بلکه دوی ئی د اقلیمونو باچا او د متقیانو امام وگرځاوه ښائی د هم دی لامله (له وجی) په دغو آیاتونو کښې د مکیانو (مکی والؤ) حال ئی واوراوه او په ورستنیو آیاتونو کښې په ﴿ فَكُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ ﴾ کښې ئی مسلمانانو ته خطاب فرمایلی دی چه تاسی له داسی حرکاتو څخه ځان ساتئ! چه د هغه له سببه پر مکیانو (مکی والؤ) مصائب نازل شوی وو.

---

فَكُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ حَلٰلًا طَيِّبًا ۖ وَّاشْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ اِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ ﴿۱۱۴﴾

---

نو خورئ تاسی له هغو (طعامونو) څخه چه درکړی تاسی ته الله حلال طیب پاکیزه او شکر وباسئ (قدر وپیژنئ) د نعمت (احسان) د الله که یئ تاسی چه خاص هم ده ته عبادت کوئ (او فرمان ئی منئ).

---

**تفسیر:** یعنی هر څوک چه د الله تعالیٰ د عبادت مدعی وی ده لره دغه خبره ور (مستحق) او

لاڅقه ده چه د الله تعالیٰ د ورکړی نعمت او حلالی او طیبی روزی څخه متمتع شی! او د هغه د احسان قدر وکړی! او د الله شکر گزاره بنده شیـ حلال دی حرام نه گنی، حرام دی حلال نه شمیری! د نعمتونو د منتفع کیدلو په وقت کښی حقیقی منعم دی نه هیروی! بلکه په هغه او د هغه پر لیږلی شوی رسولانو باندی دی ایمان راوړی! او د دوی د احکامو او هدایاتو په تعمیل کښی دی ډیر زیار وکاږی!

(د حلالو او طیبو او پاکیزه ؤ شیانو د استعمال له احکامو څخه وروسته اوس په دغه آیت کښی الله تعالیٰ د حرامو اشیاؤ ذکر فرمائی څو د هغو له استعماله ځانونه وژغورلی(وساتلی) شی).

---

إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ ۖ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١١٥﴾

---

بیشکه هم دا خبره ده چه حرام کړی دی (الله) پر تاسی باندی (خوراک د) مردار او (د بهیدونکی) وینی او د غوښی د خنزیر او هغه (حلال کړی شوی حیوان) چه غږ کړی شوی دی (د بل شی) بی له الله (د نامه) په (وقت د ذبح د) هغه، پس هغه څوک چه اړ (محتاج) شی (خوړلو د دی حرامو ته) حال دا چه ظالم نه وی (په بل چا) او نه تجاوز کوی (له قدره د کفافه) نو بیشکه الله لوی مغفرت کوونکی (د خطیئاتو) ډیر رحم والا دی (په انعام د اجر او ثواب).

---

**تفسیر:** د دی آیت تفسیر د «**البقرة**» او د «**الانعام**» په سورتونو او نورو ځایونو کښی پخوا لیکلی شوی دی ځمونږ دی تفسیر کښی دی بیا ولوست شی دلته دا غرض دی لکه چه په پخوانی آیت کښی اشاره وه چه حلال دی پر خپل ځان نه حراموی! په دغه آیت کښی تنبیه ورکړی شوی ده چه حرام شیان دی هم نه حلالوی! خلاصه ئی دا چه یو شی حلال یا حرام مقررول، د همغه لوی الله حق دی چه د دغو گردو (ټولو) شیانو خالق او مالک دی لکه چه په راتلونکو آیاتونو کښی په وضاحت سره د دغه مضمون بیان شوی دی (د اضطرار په تفصیل کښی ځینی مفسرین داسی لیکی چه د لوږی له جهته مرگ ته نژدی شوی وی یا له جهته د مرض چه طبیب حاذق په خوراک د دغه حرام شی سره ورته امر وکړی).

---

وَلَا تَقُولُوا لِمَا تَصِفُ أَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ هَٰذَا

حَلٰلٌ وَّهٰذَا حَرَامٌ لِّتَفْتَرُوْا عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ يَفْتَرُوْنَ
عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ لَا يُفْلِحُوْنَ ؕ﴿۱۱٦﴾ مَتَاعٌ قَلِيْلٌ ۪ وَّلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۱۷﴾

او مه وایئ تاسی له وجې د بیانولو د ژبو ستاسي دروغو لره (داسي) چه دا حلال دی او دا حرام دی دپاره د دې چه جوړ کړئ له ځانه پر الله دروغ بیشکه هغه کسان چه تړی دوی پر الله بهتان نه به مومي خلاصي (له عذابه د آخرت؛ دغه چه بهتان تړلي وو دوی پر الله د هغه شي دپاره هغه) نفعه ده لږه او شته دوی ته عذاب دردناک.

**تفسیر:** یعني بې له کوم شرعي مستنده د کوم شي په متعلق خوله سپړدل او داسي ویل چه حلال دی یا حرام ډیر سخت جسارت او کذب او افتراء ده. حلال یا حرام خو همغه شیان کیدی شي چه هغه ته پاک الله حلال یا حرام فرمایلي وي ـ که کوم سړی محض پخپلي رأیې سره کوم شی حلال یا حرام وتاکی (مقرر کړی) او د هغه نسبت الله تعالیٰ ته وکړی (لکه چه د معظمي مکي مشرکانو کول) او د هغه ذکر د «**الانعام**» په سورت کښونږ د دې مبارک تفسیر کښي پخوا له دی نه تیر شو نو هغوی فی الحقیقت پر الله تعالیٰ بهتان تړلی دی. مونږ مسلمانانو ته هدایت راکړی شوی دی چه ښائي هیڅکله داسي رویه ځان ته اختیار نه کړو او هر هغه شي چه الله تعالیٰ حلال کړی وي حلال ئې وبولو او هر هغه شي ئې چه حرام کړی حرام ئې وګڼو او بې له شرعي مأخذه پخپل سر د حل یا حرمت احکام ونه لګوو.

﴿مَتَاعٌ قَلِيْلٌ ۪ وَّلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ﴾ دغه چه بهتان تړلی وو دوی پر الله تعالیٰ د هغه شي دپاره هغه نفعه ده لږه او شته دوی ته عذاب دردناک) یعني د معظمي مکي مشرکین چه ځمونږ لوی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته معاذ الله مفتري وویل په یاد دی ولري چه هغوی پخپله مفتریان دی ـ دوی د کذب او افتراء له لوری هر شي ته چه ئې وغواړی حلال یا حرام وائي او د هغه حلت یا حرمت نسبت پاک الله ته کوی دوی ته به عنقریب معلومیږی چه د دغسي رویې د اختیارولو څخه دوی هیڅ یوی ښېګڼي (فائدی) ته نشي رسیدی لږ څو ورځي نوری دی هم دنیوی مزی وکړی او د دغه لږ خسیس ژوندون څخه دی لږ څه خوندور شي بیا به دوی په هغه دائمي بندیخانې کښي اچول کیږی چه هغه هم دوی ته بیخي آماده او تیار دی.

وَعَلَى الَّذِيْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا مَا قَصَصْنَا عَلَيْكَ مِنْ قَبْلُ ۚ وَمَا
ظَلَمْنٰهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۱۱۸﴾

او پر هغو کسانو چه یهودان شوی دی حرام کړی دی مونږ هغه څیزونه چه بیان کړی وو مونږ پر تا باندی پخوا له دی نه او نه وو ظلم کړی مونږ پر دوی (په دی تحریم سره) ولیکن وو دوی چه په ځانونو خپلو به ئی ظلم کاوه (په علمی عصیان سره).

---

**تفسیر:** د دغه بیان د الانعام د سورت د ۸ جزء په (١٤٦) آیت (١٨) رکوع د ﴿ وَعَلَى الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا كُلَّ ذِي ظُفُرٍ وَمِنَ الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ شُحُومَهُمَا ﴾ الآیة ـ آیت په تفسیر کښی تیر شوی دی هلته دی بیا وکوت شی. دلته دا مقصد دی هر هغه شی چه الله تعالیٰ گردو (تولو) ته یا کوم خاص قوم دپاره دائماً تل ترتله تر یوه معینه وقته پوری حرام کړی وی هغه عین حکمت او صواب دی هیڅ یو انسان د دغه حق نه لری چه په هغه کښی تصرف وکړی او حرام حلال یا حلال حرام وگرځوی.

---

ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ عَمِلُوا السُّوٓءَ بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابُوا مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ وَأَصْلَحُوٓا إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١١٩﴾ ع

---

بیا بیشکه رب ستا (چه دی ای محمده) هغو کسانو ته چه ئی کړی دی بدی (گناه) په جهالت (ناپوهی) سره بیا توبه وباسی وروسته له کولو د هغه (بد عمل) او نیک کړی عمل خپل بیشکه رب ستا وروسته له دغی توبی څخه خامخا لوی مغفرت کوونکی دی (د خطیئاتو) ډیر رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره).

---

**تفسیر:** مثلاً حرام ئی حلال یا حلال ئی حرام وگڼل په «نادانی سره» ئی څکه وفرمایل هر څوک چه د الله تعالیٰ له احکامو څخه غاړه غړوی اگر که ئی عملاً او په قصد سره هم وکړی هغه هم فی الحقیقت د هغه نادانی او بی عقلی ده چه له خپله ځانه په لوی لاس جاهل جوړوی او کوی ئی. که عاصی لږ څه له عقله کار واخلی ـ او د گناه بدو نتایجو ته وگوری او تصور ئی وکړی نو له سره به د معصیت په لوری اقدام ونه کړی د جزء (٤) «النساء» د سورت په (٣) رکوع ١٧ آیت کښی هغه تعلیقات چه پر ﴿ إِنَّمَا التَّوْبَةُ عَلَى اللَّهِ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ السُّوٓءَ بِجَهَالَةٍ ﴾ باندی لیکلی شوی دی ښائی چه هغه دی بیا یو ځلی دلته هم ولوست شی.

﴿ ثُمَّ تَابُوا ﴾ الآیة ـ بیا توبه وباسی وروسته له کولو د هغه بد عمل او نیک کړی عمل خپل، بیشکه رب ستا وروسته له دغی توبی څخه خامخا لوی مغفرت کوونکی دی د خطیاتو ډیر رحم والا دی په انعام د اجر او ثواب سره) یعنی له کفریاتو څخه له توبی ایستلو او په اخلاص سره په

مسلمانیدلو ـ او په مستقبل کښې د خپل اعمال او افعال په درست کولو سره الله تعالیٰ د توبې کوونکو ګرد (تول) تیر ګناهونه ښښی اګر که ډیری سختی او غتی ګناوی هم وی.
(پاک الله ګردو (تولو) ګناهګارانو ته د خپل رحمت او مغفرت په ژبه داسی ډادینه او اطمینان ورکوی)

آدوب شویه! په ککړو ـ آ تور مخیه ماته راشه!
بت پرست ئی! که کافر ئی ـ که ئی ګبر! ماته راشه!
هیڅوک نه کرم نا امیده ـ زه ښښونکی لوی الله یم!
که توبی دی زرکرته ماته کړی ـ ماته راشه!
ښه انسان شه! مسلمان شه ګټه (فائده) نشته معصیت کښې!
ګناه مه کړه! متقی شه! چه ځای ومومی جنت کښې!

إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتًا لِّلَّهِ حَنِيفًا وَلَمْ يَكُ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٢٠﴾

بیشکه چه ابراهیم ؤ (اصلی او اساسی) پیشوا (جامع د تولو نیکیو لکه یو جماعت) فرمان منونکی خاص الله لره حنیف (مائل له باطله حق ته) او نه ؤ دی له مشرکانو (لکه چه قریش وائی)،

**تفسیر:** دلته الله تعالیٰ جل وعلا د عربو د مشرکینو د شرکیاتو په تردید کښې د امام الموحدین ابو الانبیاء حضرت ابراهیم خلیل الله علیه وعلیٰ ذریته ونبینا الصلواة والسلام طور او طریقه را په یادوی ځکه چه د عربو خلق د ده له ذریې او ځوځات (نسل) څخه وو ـ او خپل ځانونه ئی پر ابراهیمی دین باندی سم او برابر ګڼل ـ حال دا چه دوی د ابراهیمی دین سره له لری هم څه علاقه او نسبت نه درلوده (لرلو) نو دوی ته دا ورښیی چه ابراهیم علیه السلام د موحدینو امام د ګردو (تولو) نیکیو معلم ـ د تولی دنیا په مقابل کښې یواځې پخپل سر د یوه عظیمه امت په برابر ولاړ ؤ او د دوی په مبارک ذات کښې پاک الله هغه ګرد (تول) محاسن او کمالات ورجمع کړی ؤ چه په یو لوی مجمع کښې په متفرق ډول (طریقه) سره موندلی کیږی.

**لیس علی الله بمستنکر ـ ان یجمع العالم فی واحد**

عجب نه دی له الله نه چه قادر دی په هر څیز
چه دی تول پخپل قدرت کړی ګرد (تول) عالم په یو سړی کښې
او دا هم نه دی عجب د ده له زوره له قوته
چه دی ځای کړی سیند له شیرمی په یو دم پر یو ګړی کښې
ابراهیم علیه السلام د الله تعالیٰ داسی کامل او مطیع او فرمان منونکی بنده ؤ چه له ګردو

(تولو) ځنی شکولی او یواځی له الله تعالیٰ سره ئی نښلولی او دیر خاص مخلص مسلمان ؤ ممکن نه ؤ چه ده کوم څیز بی د الله تعالیٰ له حکمه محض له خپل لوری حلال یا حرام درولی وی. نو دی پخپله معاذ الله څرنګه د شرک ارتکاب کولی شی. ده د مشرکینو په کلی او جماعت کښی وسیدل هم نه خوښول ـ نو اوس هغه کسانو ته (چه دوی خپل ځانونه «حنیف» بولی او داسی ادعا کوی چه مونږ پر ابراهیمی دین یو) شرم او ننګ پکار دی چه څرنګه پر الله تعالیٰ بهتان تړی؟ آیا د حلالو حرام ګڼل، یا د حرامو حلال درول او د شرک په حمایت کښی له انبیاؤ سره جنګیدل د یو «حنیف» او ابراهیمی سړی له شان سره مناسبت لری؟ په یاد ئی ولرئ چه د حلالو او حرامو په بیان کښی او د دین په اصولو کښی ـ اصل خو هغه ابراهیمی ملت دی چه د همغه ملت د اقامت او اشاعت اوسط او تفصیل دپاره محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم تشریف راوړی دی. که غواړی چه پر اصلی دین د ابراهیم علیه السلام تګ وکړئ نو محمدی صلی الله علیه وسلم طریقه ځان ته غوره کړئ.

شَاكِرًا لِّأَنْعُمِهِ ۚ اجْتَبَٰهُ وَهَدَٰهُ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿١٢١﴾

(ؤ ابراهیم قدردان) شکر کوونکی د نعمتونو (احسانونو) د الله غوره کړی ؤ (الله) دغه (ابراهیم لره په نبوت سره) او برابر کړی ؤ (الله) دغه (ابراهیم) سمی لیاری (د توحید او اسلام) ته.

**تفسیر:** یعنی ابراهیم علیه السلام د الله تعالیٰ شکر ګزاره بنده ؤ ـ تاسی سخت ناشکره او د نعمت کفران کوونکی یئ ـ لکه چه د ﴿ وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ آمِنَةً ﴾ الایت په تفسیر کښی ښکلی شوی دی نو تاسی څرنګه د ابراهیم علیه السلام په دین او ملت او لیاره کښی یئ؟ (چه حق پریږدئ او باطل خوښوئ له توحیده مخ اړوئ او شرک او کفر پسی ځغلئ ـ حال دا چه حضرت ابراهیم علیه السلام) د کامل توحید او تسلیم او رضاء پر سمه لیاره روان ؤ ـ او الله تعالیٰ ده ته دیره سمه صافه لیاره ورښوولی وه او دی ئی پری روان کړی ؤ.

وَءَاتَيْنَٰهُ فِى ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً ۖ وَإِنَّهُۥ فِى ٱلْءَاخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٢٢﴾

او ورکړی وه مونږ دغه ته (یعنی ابراهیم ته د خپل د الوهیت له درباره) په دغه دنیا کښی نیکی او بیشکه دغه (ابراهیم) په آخرت کښی هم خامخا له صالحانو (د لویو درجاتو د خاوندانو) څخه دی

**تفسیر:** (نیکی) یعنی نبوت ـ پراخه روزی ـ اولاد ـ وجاهت ـ (یا جمیل ذکر یا نیک اولاد یا

نبوت د محمد صلی الله علیه وسلم یا) عمومي مقبولیت چه کرد (تول) ادیان بالاتفاق د ده
تعظیم کوی او هره فرقه هم دا غواړی چه خپله سلسله حضرت ابراهیم علیه السلام سره ولګوی
(او بیشکه چه پخپله ابراهیم علیه السلام په آخرت کښې هم خامخا له صالحانو د لویو درجاتو
له خاوندانو څخه دی) یعنی هغه دعاء چه ده پخپل حق کښی کړی وه ﴿ وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ ﴾
هغه قبوله شوه بیشکه چه دی به آخرت کښی هم د صالحینو په اعلیٰ طبقه کښی به شامل وه چه
هغه د انبیاؤ علیهم السلام طبقه ده.

ثُمَّ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ أَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا ۖ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٢٣﴾

بیا وحی (حکم) وکړ مونږ تاته (ای محمده! داسی) چه متابعت وکړه (په
توحید کښی د (دین د) ابراهیم چه حنیف (مائل ؤ له باطله حق ته) او نه
ؤ دی له مشرکانو (لکه چه قریش ئی مشرک بولی).

**تفسیر:** د دی بیان د «الانعام» په سورت د ﴿ دِينًا قِيَمًا مِّلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا ۚ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴾
آیت باندی څمونږ دی تفسیر کښی تیر شو هلته دی بیا ولوست شی، مقصد دا
دی چه به حلت او حرمت او دینی خبرو کښی ابراهیمی ملت او دین اصل دی. په منځ کښی
یهودو او نصاریٰ ؤ ته د هغوی حالاتو په مناسبت مخصوص احکام ورکړی شوی دی بالاخر محمد
صلی الله علیه وسلم ئی مبعوث کړ، څو هغه اصلی ابراهیمی دین بیا له سره ژوندی او روښانه
کړی چه له غفلته او تحریفه او بی ځایه تصرفاتو څخه بیخی ضایع شوی ؤ او د شرک ګرد
(تول) رګونه پری کړی. په حدیث کښی راغلی دی **«بعثت بالحنيفية السمحة»** د دی
داسی پوره شرح او تفصیل حضرت شاه ولی الله په **«حجة الله البالغه»** کښی فرمایلی دی چه د
لوستلو وړ (لائق) دی.

إِنَّمَا جُعِلَ السَّبْتُ عَلَى الَّذِينَ اخْتَلَفُوا فِيهِ ۚ وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ
فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿١٢٤﴾

بیشکه هم دا خبره ده چه مقرر کړی شوی دی (تعظیم د ورځی د) خالی (په
عبادت سره) پر هغو کسانو چه اختلاف یی کړی وو پکښی او بیشکه چه رب

ستا خامخا حکم به وکړی په منځ د دوی کښی په ورځ د قیامت کښی په هغه څیز کښی چه وو دوی چه په هغه کښی به ئی اختلاف کاوه (چه هغه ورځ ده د عبادت).

---

**تفسیر:** یعنی په اصلی ابراهیمی ملت کښی د خالی (شنبی) د ورځی حکم نه ؤ - چه پر مونږ محمدی صلی الله علیه وسلم امت باندی هم نه دی. هو! په منځ کښی یهودانو د خپل نبی موسیٰ علیه السلام له ارشاده سره اختلاف وکړ، نو کله چه دوی دغه د خالی ورځ ځانته غوره کړه نو حکم وشو چه په ښه شان سره ئی تعظیم وکړئ! او په دغه ورځ کښی دی د ماهیانو ښکار ونه کړ شي! ځینو یهودانو دغه حکم قبول کړ او ځینو هغه ونه مانه چه هغه نامنونکی په دنیا کښی بیزوګان او خنزیران شول. او د دوی په نسبت کومه فیصله چه په آخرت کښی کیږی، هغه بیله ده، په هم دغه څه انحصار نشته هلته به نور ګرد (تول) اختلافات او جګړی هم سره فیصله کیږی مثلاً د حضرت ابراهیم علیه السلام په نسبت چه ځینو به یهودی ګانه او ځنو به نصرانی باله، حال دا چه الله تعالیٰ دوی پوهولی دی چه ابراهیم علیه السلام حنیفی مسلم ؤ په هر حال په آخرت کښی د دغو ګردو (تولو) اختلافاتو فیصله کیږی او هر سړی به پخپلو سترګو سره ګوری چه کومه یوه ډله په غلطه تینګه وه؟ او کومه یوه په غلطه لیاره روانه وه.

---

ادْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ ۖ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ ۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِ ۖ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ ﴿١٢٥﴾

---

بلنه کوه (ای محمده! خلقو ته) لیاری د رب خپل ته (چه توحید او اسلام دی) په حکمت (محکمی خبری د قرآن) سره او په موعظه (پند) نیک سره په ښه ډول (طریقه) او مباحثه کوه له دوی سره په هغی (طریقی سره) چه هغه ډیره ښه وی؛ بیشکه چه رب ستا ښه عالم دی په هغه چا چه ګمراه شوی دی له لیاری د الله څخه او دی ښه عالم دی په لیاره موندونکو (دین ته او پر تا تش تبلیغ دی).

---

**تفسیر:** په پاس آیتونو کښی ئی مخاطبینو ته دا ورښکاره کړه چه دغه رسول الله د اصلی ابراهیمی ملت او دین سره راغلی دی که تاسی د بری او کامیابی غوښتونکی یئ او د «حنیفیت» په دعوی کښی رښتین یئ نو پر دغه سمی، صافی لیاری لاړ شی! په ﴿ ادْعُ إِلَىٰ

﴿سَبِيلِ رَبِّكَ﴾ الآية - کښې تر آخره پورې پخپله محمد صلی الله علیه وسلم ته تعلیم ورکاوه کیږي چه ښائی خلق په څه دول (طریقه) په سمې لیارې باندې راولې؟ او د هغه درې طریقې ئې راښودلي دي (١): حکمت (٢): حسنه موعظه (٣): جدال بالتي هي احسن
(١): له «حکمت» څخه مراد دا دی چه د نهایتي پخې خبرې - محکمې اترې - جازمه مضامین قاطعه براهین - مضبوط دلائل - معقول عوامل په قوت او رڼا (رنړا) کښې هغوی ته لیار ښوونه وشي - چه د هغو په آوریدلو او لیدلو او پوهیدلو سره، فهم او ادراک او علمي ذوق لرونکې طبقه (خواص) غاړه کیښودی شي او د دنیا خیالي فلسفې د ده په مقابل کښې پرې او مرې ولوېږي او هیڅ قسم علمي او دماغي ترقیات د الله تعالیٰ د وحې له بیان کړیو حقائقو یو بڅرکې هم تبدیل ونه کړی شي.
(٢): «حسنه موعظه» له هسې مؤقرو معتبرو او مؤثرو او رقت پیدا کوونکو پندونو څخه عبارت دی چه د نرم خوئی او زړه سوی له روحه ډک وي، له اخلاصه - همدردی شفقت - او ښو اخلاقو سره په ښه صورت او معتدله اسلوب او پیرایه سره کوم نصیحت چه وکړی شي، ډیر ځلې داسی واقع کیږي چه د تیږو (ګټو) پشان سخت زړونه هم موم غوندې نرموي په مړو زړونو کښې نوی روح غورځوی. یوه مایوس - مړ او له کاره لویدلې قوم د هغه پند په اثر د یوه واښه په مرسته (مدد) ولاړیږي - خلق د ترغیبو او ترهیبو د مضامینو د اوریدلو څخه د مقصودی منزل په لورې په منډو، منډو ورځغلي - بالخصوص هغه کسان چه ډیر عالي دماغ او ذکي او فهیم هم نه وي - مګر د حق د طلب سکروټې پخپلو سینو کښې لرې په دوی کښې د موثرو پندو او مواعظو نصیحتونو په وسیله داسې یو قوت او قدرت پیدا کیدی شي چه هغه د ډیرو لوړو عالمانه ؤ تحقیقاتو په ذریعه ممکن نه دی هو! په دنیا کښې تل ترتله داسې یو جماعت هم شته چه د هغوی کار هم دا وی چه هره خبره واړوی - او په هر څیز کښې جګړې وکړی - او کاږه واږه بحثونه وکړی - نو داسې خلق نه د حکمت خبرې قبلوی او نه وعظ او نصیحت آوری، بلکه د دوی زړه هم دا غواړي چه په هره خبره باندې د مباحثې او مناظرې او مناقشې بازار تودوی ځینې اوقات د فهم او د انصاف خاوندانو او د حق طالبانو ته هم ځینې داسې شبهات پیدا او احاطه پرې کوی چه د هغوی تسلی او ډادینه هم بې له بحثه نه کیږي، نو ځکه ئې ﴿وَجَٰدِلۡهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ﴾ وفرمایل.
(٣): «**جدال بالتي هي احسن**» یعنی که داسې کومه موقع درورواندې شي نو په ډیره ښه طریقه - تهذیب غوره والې - حق پیژندلو او عدل او انصاف سره مباحثه وکړئ او پر خپل مقابل حریف الزام واړوئ او په ښه اسلوب او پیرایه سره ئې سمې لیارې ته دروارووئ او ښائی چه خامخا زړه خوږوونکې او ربړوونکې (تکلیفونکې) خبرې ونه کړئ! چه په هغه سره قضیه اوږدیږي او معامله طول ته رسیږي - ښائی چه بالذات د مقصود تفهیم او د حق احقاق وي ځکه چه له ځیروالې او خشونت - بد اخلاقی - خبرو غتولو - ضد - عناد او هندې څخه هیڅ یوه ښه نتیجه په لاس نه ورځي.

﴿إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ﴾ الآية - بیشکه چه رب ستا ښه عالم دی په لیاره موندونکو دین ته او پر تا ای محمده تش تبلیغ دی) یعنی د دعوت او تبلیغ په طریق کښې تا ته ښائی چه د الله تعالیٰ په ورښولی لیاری باندی لاړ شی او تاته نه ښایی چه په دغه فکر او چرت (خیال) کښې ولوېږې چه څوک ئې منی؟ او څوک ئې نه منی؟ نتیجه پاک الله ته وسپاره! همغه د په لیار راتلونکو او په لیار نه راتلونکو وګړو(کسانو) له حالاتو څخه هم ښه خبردار دی او له هر چا سره به له هغه سره مناسبه معامله کوی.

وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُم بِهِۦ ۖ وَلَئِن صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِّلصَّٰبِرِينَ ﴿١٢٦﴾

او که عذابوئ تاسی (څوک) نو عذاب ورکوئ په مثل د هغه عذاب سره چه عذاب کړی شوی یئ تاسی په هغه سره؛ او خامخا قسم دی که صبر وکړ تاسی (په طاعت، مصیبت او له معصیت او انتقامه) نو خامخا دغه (صبر) خیر (غوره) دی (له انتقامه) صابرانو ته.

**تفسیر:** یعنی د تبلیغ او دعوت په لیاره کښې که تاته ډیره سختی او تکالیف در ورسولی شی نو د قدرت او قوت حاصلولو په وقت کښې ته اجازه لری چه سم برابر له هغوی سره معامله وکړی او په مساوی ډول (طریقه) تری بدل واخلی. لیکن د صبر مقام له دی نه لوړ او اعلیٰ دی، که صبر وکړی نو د هغه نتیجه ستا په حق او د لیدونکی او هم د همغو متجاوزینو او تیری کوونکو په حق کښې ښه او بهتره دی

چه درلود (لرلو) څمونږ رسول خلق عظیم ـ نو مامور کړ دی په صبر پاک رحیم
وی به تل صبر کول کار د تسلیم ـ بیصبری دی کار د یو شیطان رجیم

وَٱصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلَّا بِٱللَّهِ ۚ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُ فِى ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُونَ ﴿١٢٧﴾

او صبر کوه! او نه دی صبر ستا مګر په (توفیق) د الله سره او مه خپه کیږه پر دغو کفارو (چه ولی نه مسلمانیږی) او مه کیږه په زړه تنګی کښې له هغو څخه چه دوی مکرونه کوی (لتا سره).

**تفسير:** يعني پر مظالمو او شدائدو صبر كول ـ آسان كار نه دى، كه الله تعالىٰ چاته توفيق ور په برخه كړى نو صبر او تحمل ئى هم ور په برخه كيږى او كولى شي چه ربړ (تكليف) او ظلم وګالى (برداشت كړى) او آه ونه كاږى!.

كاږو بلاء مومو جفا ـ صبر او حمد كوو تل
د بد په ځاى كوو نيكى ـ دغه عادت دى ځمونږ

إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوا وَّالَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ ﴿١٢٨﴾

بيشكه الله ملګرى دى (په عون او نصرت سره) له هغو كسانو سره چه پرهيزګارى كوى (له كفر او معاصيو او ويرېږى له الله) او له هغو كسانو سره چه دوى نيكى كوونكى دى.

**تفسير:** يعني انسان هومره چه له الله تعالىٰ څخه وويرېږى او تقوىٰ او پرهيزګارى او نيكى اختيار كړى، هغومره د الله تعالىٰ امداد او اعانت ورسره وى، نو داسى متقيانو ته د كفارو له مكرونو او فريبونو څخه زړه تنګى كيدل يا غمجن والى نه دى په كار ځكه چه الله تعالىٰ دغه عاجزان او ضعيفان.هم له متقيانو او محسنانو سره پخپل فضل او كرم او مرحمت محشور فرمائى.

**تمت سورة النحل بعونه وتوفيقه ولله الحمد.**

سورة «بنی اسرائیل» مکیة الا الایات ۲٦و ۳۲و ۳۳و ۵۷ ومن آیة ۷۳
ای غایة ۸۰ فمدنیة وهی (۱۱۱) آیة و (۱۲) رکوعاً
نزلت بعد «القصص» عدد تلاوتها(۱۷) وعدد نزولها (۵۰)
د بنی اسرائیل سورت مکی دی. پرته (علاوه) له ۲٦ ، ۳۲ ، ۳۳ ، ۵۷ ـ او له ۷۳ آیتونو څخه تر ۸۰ آیته پوری چه مدنی دی (۱۱۱) آیتونه (۱۲) رکوع لری.
وروسته د «القصص» له سورت څخه نازل شوی دی په تلاوت کښی (۱۷) او په نزول کښی (۵۰) سورت دی.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

(شروع) په نامه د الله چه خورا (ډیر) مهربان، ډیر رحم والا دی.

سُبۡحٰنَ الَّذِیۡۤ اَسۡرٰی بِعَبۡدِہٖ لَیۡلًا مِّنَ الۡمَسۡجِدِ الۡحَرَامِ اِلَی الۡمَسۡجِدِ الۡاَقۡصَا الَّذِیۡ بٰرَکۡنَا حَوۡلَہٗ لِنُرِیَہٗ مِنۡ اٰیٰتِنَا ؕ اِنَّہٗ ہُوَ السَّمِیۡعُ الۡبَصِیۡرُ ①

پاکی د هغه ذات چه بیولی ئی ؤ بنده خپل (محمد) په (یوه برخه د) شپی کښی له (منځه یا له ځنګه د) مسجد حرام څخه تر مسجد اقصیٰ پوری هغه چه برکت اچولی دی مونږ چار چاپیر د هغه (بیول د محمد د دی لپاره ؤ) چه (هلته) وښیو مونږ دغه (محمد) ته ځینی له دلائلو (د قدرت) خپل، بیشکه چه دغه (الله) هم دی دی ښه اوریدونکی (د ګردو «تولو» اقوالو) ښه لیدونکی (عالم په پټو او ښکاره ؤ).

**تفسیر** : یعنی الله تعالیٰ له هر نوعه نقص او له هر قسمه قصور او له هر راز (قسم) ضعف او عجز څخه پاک دی. هره هغه خبره چه ځمونږ په خیال کښی بی انتها عجیبه معلومیږی او ځمونږ ناقص عقول هغه پیچیده مستبعده ګڼی د الله تعالیٰ د قدرت او مشیت مقابله کښی هغه هیڅ مشکل نه دی.
﴿ اَسۡرٰی بِعَبۡدِہٖ لَیۡلًا ﴾ الآیة - چه بیولی ئی ؤ بنده خپل محمد په یوه برخه د شپی ـ الخ) یعنی یواځی د شپی په یوی محدودی برخی کښی خپل ډیر مخصوص او خورا (ډیر) مقرب بنده محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ئی د مکی معظمی له حرمه تر بیت المقدس پوری بوتلو. د

دغه سفر غرض څه ؤ؟ د هغه په لوری وروسته له دی نه په ﴿ لِنُرِيَهُ مِنْ اٰيٰتِنَا ﴾ کښی اشاره فرمایلی ده: حاصل ئی دا دی چه پخپله هم دغه سفر کښی له بیت‌المقدس څخه ورﺍندی بل چیری ئی بوتلو او د خپل د قدرت عظیم الشان نشان او ډک له حکمته د انتظاماتو عجیبی او غریبی نمونی ورښوول ئی منظور ؤ. د «النجم» په سورت کښی د دغو آیتونو څه ذکر شوی دی چه له هغو څخه ظاهریږی چه څمونږ د رسول الله صلی الله علیه وعلیٰ آله وصحبه وسلم تر سدرةالمنتهیٰ پوری تشریف وړی ؤ. او نهایت‌عظیم الشان آیات ئی مشاهده فرمایلی ؤ: ﴿ وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰى عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى عِنْدَهَا جَنَّةُ الْمَاْوٰى اِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشٰى مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغٰى لَقَدْ رَاٰى مِنْ اٰيٰتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰى ﴾

(۲۷ جزء د النجم ۱۳ تر ۱۸ آیة (۱) رکوع) د

علماؤ په اصطلاح له مکی معظمی څخه تر بیت المقدس پوری سفر ته (اسراء) او له هغه ځایه تر سدرةالمنتهیٰ پوری سیاحت ته «معراج» وائی. او ډیر ځلی د دغو دواړو سفرونو مجموعه په هم دغه یوه لفظ د (اسراء) یا (معراج) سره تعبیر کیږی.

د (معراج) احادیث تقریباً دیرشو تنو اصحابو څخه منقول دی چه په هغو کښی د (معراج) او (اسراء) واقعات په بسط او تفصیل سره بیان شوی دی.

د اسلافو او د اخلافو د جمهورو عقیده دا ده چه زمونږ پاک رسول الله محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم په ویښه (بجسده‌الشریف) (معراج) ته بیولی شوی دی. یواځی دوه دری تنو صحابه ؤ رضی الله تعالیٰ عنهم او تابعینو رحمة الله علیهم څخه منقول دی چه د (اسراء) او د (معراج) واقعه او پیښه د منام (ویدیدو) په حالت کښی د یوه عجیب او غریب رؤیا (خوب) پشان ده لکه چه په دغه سورت کښی وروسته له دی نه د ﴿ وَمَا جَعَلْنَا الرُّءْيَا الَّتِيْ اَرَيْنٰكَ ﴾ الآیة ـ کښی راځی. او دوی له هغه څخه دغه استدلال کوی.

له اسلافو ځینی د هیچا قول داسی نه دی چه (معراج) د ویښتوب په حالت کښی محض په روحانی دول (طریقه) سره واقع شوی دی لکه چه د ځینو حکماؤ او صوفیه ؤ په مذاق د هغه دا تجویز کاوه شی.

په «روح المعانی» کښی راغلی دی: **«ولیس معنی الاسراء بالروح الذهاب یقظة کالانسلاخ الذی ذهب الیه الصوفیة والحکماء فانه وان کان خارقا للعادة و محلا للتعجب ایضا الا انه امر لا تعرفه العرب ولم یذهب الیه احد من السلف رحمة الله علیه»** بیشکه ابن القیم رحمة الله علیه په «زاد المعاد» کښی د عایشی صدیقی، معاویه او حسن بصری رضی الله تعالیٰ عنهم د مسلک توجیه په دغه شان سره کړی ده. مګر پر هغه باندی ئی کوم نقل نه دی وړاندی کړی او تش د ظن او تخمین څخه ئی کار اخیستی دی. ابن اسحاق او نورو هغه الفاظ چه له نورو مشرانو څخه نقل کړی دی په هغو کښی هیچیری د ویښتیا حالت نه دی تصریح کړی بهر حال قرآن عظیم الشان په هغه اهتمام او ممتاز او ځلیدونکی عنوان سره چه دغه د (اسراء) د واقعی ذکر فرمایلی دی او په هغومره جدیت او مستعدی سره چه مخالفین د هغه انکار او تکذیب په میدان دریدلی دی چه د هغه په اثر د ځینو موافقینو پښی هم ښوئیدلی دی. دغه د دی خبری دلیل دی چه د دغی واقعی نوعیت محض د یوه عجیب او غریب خوب یا

روحانی سیر پشان نه ؤ. د (اسراء) دعوی که د روحانی سیر او انکشاف په دول (طریقه) ومنلی شی نو دغه به کفارو ته د دومره تعجب او استغراب او حیرت خبره نه کیده. ځکه چه د هسی روحانی انکشافاتو او سیرو په نسبت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د خپل د بعثت له ابتداء څخه معلومات او اخبار ورکول. دغه د ده (معراج) یا (اسراء) تعجب پیدا کوونکی او حیرت غورځونکی واقعه چه په خصوصی دول (طریقه) سره د کفارو د تکذیب تردید ـ استهزاء او خندا سبب گرځیدلی ده علت ئی دا دی چه د هغه نوعیت، خصوصیت او کیفیت د دیر حیرت موجب شوی دی. لکه چه پخپلو منځونو کښی به ئی سره ویل: «راځئ! نن د دی د نبوت مدعی یوه بله نوی ادعا او دیره عجیبه او غریبه محیر العقوله وینا واورئ!» او که داسی نه وی، نو دوی به پخپله د دی واقعی پر اظهار ولی دومره متفکر او مشوش کیدل چه په ځینو صحیحه ؤ روایاتو کښی مذکور دی. په ځینو احادیثو کښی داسی صاف لفظ راغلی دی: «**ثم اصبحت بمکة**» یا «**ثم اتیت مکة**»بیا د صباح په وقت کښی بیرته مکی ته ورسید، که (معراج) محض کوم روحانی کیفیت وی نو دوی به دغه شپه کښی له مکی معظمی څخه چیری غایب؟ او کوم ځای ته تللی ؤ؟. او د شداد بن اوس رضی الله تعالیٰ عنه او د نورو له روایاتو سره سم د ځینو اصحابو رضی الله تعالیٰ عنهم داسی پوښتنی څه معنی درلوده (لرله) چه: «د شپی له مخی تاسی پخپل دیره ځای کښی ولتولی شوئ او وکتلی شوئ تاسی چیری تللی وئ؟

| | |
|---|---|
| سفر وکاوه موسی طور سینیٰ ته | سفر وکاوه ادریس عیسٰی سما ته |
| محمد وخوت بالذاة «عرش اعلیٰ» ته | مقرب «قاب قوسین او ادنیٰ» ته |
| فکر وکره ته بیان د «ما اوحیٰ» ته | له زړه ځیر شه ته برهان د «ما یغشیٰ» ته |

زموږ په نزد د «اسریٰ بعبده» څخه دغه معنی اخیستل چه: «الله تعالیٰ خپل بنده په خوب کښی یا محض په روحانی دول (طریقه) سره له مکی معظمی ځنی بیت المقدس ته بوتلو» دغه سره مشابه کیږی چه کوم سری د «فاسر بعبادی» معنی داسی وکړی چه« ای موسیٰ ځما بندگان بنی اسرائیل په خوب کښی، یا محض په روحانی دول (طریقه) سره له مصره وباسه! او له ځان سره ئی بوځه.» یا د «الکهف» په سورت کښی چه حضرت موسیٰ د حضرت خضر علیهما السلام د ملاقات لپاره ته او په سفر روان ؤ، د هغه په څو ځایونو کښی د «فانطلقا» لفظ راغلی دی ـ نو د هغه مطلب دی هم داسی واخیست شی چه دغه گرد (تول) محض په خوب کښی یا د روحانی سیر په دول (طریقه) واقع شوی ؤ. باقی د «رؤیا» لفظ چه په قرآن کریم کښی راغلی دی د هغه په متعلق ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه فرمایلی دی: «رؤیا عین اریها الرسول صلی الله علیه وسلم.» مفسرینو د عربو له کلامونو څخه د دی شواهد وراندی کړی دی چه د «رؤیا» د لفظ اطلاق کله ناکله د مطلق «رؤیت: لیدل» په معنی استعمالیږی. لهٰذا که له هغه څخه مراد هم دغه د «اسراء» واقعه وی نو د مطلق نظاره په معنی اخسیته کیږی چه په ظاهری سترگو سره شوی دی څو د نصوصو له ظواهره او د جمهور الامت له عقیدی څخه مخالفت ونشی. هو! د (شریک) په روایت کښی ځینی داسی الفاظ راغلی دی چه د هغو له مخی د «اسراء» وقوع د نوم (خوب) په حالت

کښې معلومیږي مگر محدثین پر دغه خبره گرد (تول) سره متفق دي چه د (شریک) حافظه خرابه ده، نو ځکه د ډیرو لویو لویو حفاظو د احادیثو په مقابل کښې د هغه روایت د استناد قابل نشي کیدی. حافظ ابن حجر رحمة الله علیه د (فتح الباري) په اواخرو کښې د (شریک) د حدیث اغلاط شمیرلي دي او دا ئي ښوولي ده چه د ده د روایت مطلب داسي کیدی شي څو د عمومي احادیثو څخه مخالف نشي. مونږ دا قسم تفاصیل دلته نشو درجولی. د (صحیح مسلم) په شرح کښې دغه مباحث په پوره شرح او بسط سره درج کړی شوي دي دلته تش دومره ښوولی کیږي چه راجح مذهب هم دا دی چه د (معراج) او د (اسراء) واقعه د ویښتوب په حالت کښې (بجسده‌الشریف) واقع شوی ده. هو! که پخوا له دی نه یا وروسته هم داسي واقعات په خوب کښې هم دوی ته ورښوولي شوي وي نو له هغه څخه انکار نه دی پکار.

ویلی کیږي چه په یوه شپه کښې دومره اوږده مسافه به ئي څرنگه طی کړی وي؟ یا د ناری او زمهریري کری څخه به څنگه تیر شوی وي؟ یا د یوروپیانو له خیاله سره موافقه کله چه آسمانونه له سره نشته. نو دوی له یوه آسمانه دوهم دریم او نورو ته څرنگه تشریف یوړ؟ او دغه اخبار چه په روایتونو کښې مذکور دي څنگه به د تسلمیدلو وړ (لائق) او قابل وي؟ لیکن تر نن پوری د دې خبری هیڅ کوم یو دلیل نه دی راوړاندی کړی شوي چه په واقع سره د آسمان په نامه کوم شی نه دی موجود؟ که د دغو خلقو دغه دعوی تسلیم هم کړه شي چه دغه تک شین موجود په واقع کښې تشه فضا او هغه فی‌الحقیقت آسمان نه وي نو د دوی د دغه ادعا ثبوت به څه وی؟ آیا دوی داسي ادعا هم کولي شي چه د دغه تک شین تشتیا د پاسه د آسمانونو وجود نشی منلی کیدی؟

پاتي شوه دغه خبره چه په یوه شپه کښې دومره یو طویل سفر طی کول به څرنگه وي؟ نو گرد (تول) حکماء دغه خبره تسلیموی چه د سرعت دپاره کوم حد او اندازه نه ده مقرره شوی. له نن (۱۳٦٤هـ ق) څخه سل کاله پخوا هیچا داسي یقین نشو کولی چه مثلاً في ساعت (۳۰۰) میله لار وهونکي موتر به جوړیږی. یا به داسي طیاری (الوتکی) هم وي چه تر لسو زرو فیتو پوری جگ (وچت) ختلی شي د «مشین» او «بخار» او «برق» او نورو موجوده قوتونه او د هغو تأثیرات چا لیدلی ؤ؟ د نار کره نن ورځ د یوه بی‌معنی لفظ په شان گڼلی کیږی. هو! پاس د ډیر سخت برودت او د نورو عوارضو سره مقابله کوونکی آلات په طیاراتو کښې منصوبیږی چه د طیاری د مسافرینو حفاظت له زمهریري رود نه کوی دا خو د مخلوق د جوړ کړیو مشینونو حال ؤ، د خالق تعالیٰ د بلاواسطی مشین د لیدلو څخه انساني عقل بیخي هک پک او حیران پاتي کیږي ځمکي یا لمر ته وگوریٔ چه په (۲٤) ساعتو کښې څومره مسافه وهی؟ د شعاع رڼا په یوه دقیقه (منټ) کښې له کومه ځایه تر کومه ځایه رسیږي د وریځو بریښنا په مشرق کښې بریښي او په مغرب په یوه طرفة العین کښې لویږي (د اروپا خبری مونږ په ایشیا کښې آورو د ایشیا او اروپا پیښې په افریقه او استریلیا کښې خلق آوري او د لویو بحارو له وقائعو څخه په همغه آن کښې خبریږي او عکسونه په (تلویزیون) کښې گورو او د اتومیک بم له خورا (ډیر) لری ځایه

ځخه غورځی او په یوه ربه کښی یوه لویه جزیره له ځرمی (سیلمی) ځخه محوه کوی) چه د دغه سرعت او سیر په مقابل کښی غرونه، کندونه سیندونه بیدیا ، ځنګل، ګرمی یخنی، د مسافی لریوالی او نور د یوی خاشی او خځلی په اندازه هم اثر نشی غورځولی، هغه لوی خالق جل جلاله چه د دغو شیانو پیدا کوونکی او ځپل مخلوق ته وربښوونکی دی، نو د ځپل حبیب صلی الله علیه وسلم په براق کښی داسی د بریښنا په شان تګ او د محیرالعقولو مشینونو د پرزو په شان آلات او د حفاظت نور ګرد (تول) سامان نه شی پیدا کولی؟ چه د هغو په وسیله زمونږ رسول کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم په ډیر راحت او تکریم سره د سترګو په یوه رپولو سره له یوه مقامه بل مقام ته منتقل شی؟ ښائی د هم دغی د «اسراء» واقعی بیان په ﴿ سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِيٓ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ لَيۡلٗا ﴾ الآیة - سره شروع فرمایلی ده څو هغه خلق چه د الله تعالیٰ لامحدوده قدرت او قوت له ځپلو لنډ لیدلو او تنګ خیالونو، د ځپلو وهمونو او تخمینو په محدود دیوالونو کښی محصوروول غواړی، لږ څه له ځپلو دغه ګستاخیو، او عقلی لیونتوب ځخه وشرمیږی (او دلته دی د ځپل استدلال چړی لا څه، بلکه د منطق او فهم دال دی هم هیسته وغورځوی!)

په هر چا باندی د توری ګزار نشی ځینی ځای کښی غورځول د سپر ښه دی.

﴿ ٱلَّذِي بَٰرَكۡنَا حَوۡلَهُۥ لِنُرِيَهُۥ مِنۡ ءَايَٰتِنَآ ﴾ هغه چه برکت اچولی دی مونږ چار چاپیر د هغه «بیول د محمد د دی لپاره ؤ» چه هلته وښیو مونږ محمد ته ځینی دلائل د قدرت ځپل) یعنی په هغه ملک کښی چه «مسجد الاقصی» او بیت المقدس واقع دی الله تعالیٰ ډیر ظاهری او باطنی برکات ایښی دی. له مادی حیثیته د چینو، نهرونو، غلو، دانو، میوو او نورو افراطه او که د روحانی په اعتبار وکوت شی، نو د ځومره انبیاؤ او رسولانو مسکن او مدفن او د دوی د فیوضو او انوارو سرچینه او مخزن ؤ. ښائی د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د بیولو ځخه هغه ځای ته دغه اشاره هم وی چه هغه ګرد (تول) کمالات چه د بنی‌اسرائیلو په انبیاؤ او نورو تقسیم شوی ؤ، د ده په مقدس ذات کښی سره تول شوی دی، پر هغه تولو نعمتونو چه پر بنی‌اسرائیلو مبذول شوی ؤ، بنی‌اسماعیل قبضه کوونکی دی. د کعبی شریفی او د بیت المقدس د دواړو د انوارو او د برکاتو حامل هم دغه یو محمدی صلی الله علیه وسلم امت کیدونکی دی. په احادیثو کښی مصرحاً راغلی دی چه رسول الله مبارک په بیت المقدس کښی د ګردو (تولو) انبیاؤ امامت وفرمایه. ګواکی د انبیاؤ هغه د سیادت او امامت منصب چه محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورکړی شوی ؤ د هغه یوه حسی نمونه دوی ته او نورو مقربینو ته دلته وروښوده شوه

﴿ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ﴾ : بیشکه چه دغه الله هم دی ښه اوریدونکی د ګردو (تولو) اقوالو ښه لیدونکی عالم په تولو احوالو) یعنی اصلی آوریدونکی او لیدونکی الله تعالیٰ دی، هغه هر چا ته د ځپل د قدرت د علائمو او د ښو د وربښوولو اراده وفرمائی وربښیی ئی. پاک الله د ځپل حبیب مناجات واوریده او رفیعه احوال ئی ولیده، آخر په (معراج شریف) کښی «بی بصر» والا سترګو سره محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ته هغه عظیمه آیات وروښودلی شو چه د ده د کامل استعداد او رفیع شان سره وړ (لائق) او مناسب ؤ.

وَاٰتَيْنَا مُوسَى الْكِتٰبَ وَجَعَلْنٰهُ هُدًى لِّبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اَلَّا تَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِيْ وَكِيْلًا ﴿۲﴾

او ورکړی وو مونږ موسیٰ ته کتاب (تورات) او ګرځولی وو مونږ هغه (کتاب) هدایت لپاره د بنیاسرائیلو (اولادی د یعقوب) چه مه نیسئ تاسی غیر له ما څخه هیڅ وکیل (دوست متولی جوړونکی د کارونو خپلو)

**تفسیر :** د نبی کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم د فضل او شرف د بیان فرمائلو څخه وروسته د حضرت موسیٰ علیه السلام د ذکر په طرف ئی کلام منتقل کره. کله چه د «اسراء» په ذیل کښی تر «مسجد الاقصیٰ» او «بیت المقدس» پوری د تللو ذکر ؤ، وروسته له هغه پر «مسجد اقصیٰ» او د هغه پر قدیمی متولیانو بنیاسرائیلو کومی مختلفی دوری چه تیری شوی وی، هغه د مسلمانانو د عبرت پخپله د بنیاسرائیلو د نصیحت لپاره بیانوه شی او دا آیت د هغه تمهید دی. د اسراء، په واقعه کښی اشاره ده چه د حجازی نبی امت یوائځی د هم دی امانت مالک ګرځیدونکی دی چه د (شام) په ځمکو کښی په ودیعت ایښی شوی ؤ. په دغو آیاتونو کښی بنیاسرآئیلو ته تنبیه ورکاوه شی چه که دوی د خپل خیریت غوښتونکی وی نو اوس د هم دی عربی رسول الله صلی الله علیه وسلم متابعت وکړی ـ نو الله تعالیٰ به هم د دوی پر حال لطف او مهربانی فرمائی، که نه د پخوا په شان به بیا دوی ته د دوی د شرارتونو سزا ورکره کیږی او د «مسجد اقصیٰ» له قولیته به هم محروموه شی.

﴿ اَلَّا تَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِيْ وَكِيْلًا ﴾ چه مه نیسئ غیر له ما څخه وکیل دوست متولی، جوړونکی د کارونو خپلو) یعنی په توریت کښی داسی هدایت ورکړی شوی وو چه پر خالص توحید قائم اوسیږئ! او د الله تعالیٰ څخه ماسواء بل هیڅوک خپل وکیل او کار جوړونکی مه ګڼئ! او تل پر همغه الله تعالیٰ باندی توکل او اعتماد وکړئ!.

ذُرِّيَّةَ مَنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوْحٍ ۭ اِنَّهٗ كَانَ عَبْدًا شَكُوْرًا ﴿۳﴾

ای اولاده د هغه چا چه سور (او بار) کړی وو مونږ سره له نوحه (په بیړی کښی په نعمتونو د الله شکر وباسئ بیشکه چه نوح ؤ بنده ډیر شکر ایستونکی (په هر حال کښی نو ښائی چه تاسی هم شاکر اوسئ!).

**تفسیر :** یعنی تاسی د هغو کسانو اولاده یئ چه له نوح علیه السلام سره پر بیړی سپاره

(سواره) شوی وو او د الله تعالیٰ له عذابه ئی نجات موندلی وو، هغه احسان چه مونږ ستاسی پر لویانو کړی دی مه ئی هیروئ. وګورئ نوح علیه السلام چه تاسی د هغه (او د هغه د تابعانو) له اولادی څخه یئ څرنګه احسان پیژندونکی او شکر ایستونکی بنده ؤ، نو تاسی لره هم ښائی چه د هغه متابعت وکړئ!.

وَقَضَيْنَآ إِلَىٰ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ فِى ٱلْكِتَـٰبِ لَتُفْسِدُنَّ فِى ٱلْأَرْضِ مَرَّتَيْنِ وَلَتَعْلُنَّ عُلُوًّا كَبِيرًا ﴿٤﴾

او قطعی حکم لیږلی ؤ مونږ بنی‌اسرائیلو (اولادی د یعقوب) ته په کتاب (تورات کښی داسی چه) خامخا به فساد وکړئ تاسی هرومرو (خامخا) په ځمکه (د شام) کښی دوه ځلی او خامخا سرکښی به وکړئ تاسی هرومرو په سرکښی ډیره لویه سره.

**تفسیر :** په توریت یا په بل آسمانی کتاب کښی دغه پخوا ویل شوی ؤ چه دغه قوم بنی‌اسرائیل دوه ځلی به په مملکت کښی سخته خرابی وکړی او د ظلم او تکبر طریقه به غوره کوی او د سختیو سرکښیو او تمردو مظاهره به کوی، لکه چه هم داسی هم وشو، او هر ځلی د الله تعالیٰ له جانبه د دردناکو سزاؤ خوند ورڅکاوه کیده چه د هغه ذکر داسی فرمائی:

فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ أُولَىٰهُمَا بَعَثْنَا عَلَيْكُمْ عِبَادًا لَّنَآ أُو۟لِى بَأْسٍ شَدِيدٍ فَجَاسُوا۟ خِلَـٰلَ ٱلدِّيَارِ ۚ وَكَانَ وَعْدًا مَّفْعُولًا ﴿٥﴾

نو کله چه راغله وعده د اول انتقام (د هغو دواړو فسادونو څخه) نو مسلط کړل مونږ پر تاسی بندګان زمونږ (هغه چه ستاسی د سزا لپاره مو مسلط کړی ؤ) چه خاوندان د جنګ سخت وو نو ګرد (تول) ګرځیدل دوی (د وژلو او تالا کولو دپاره) په منځ د ښارونو (ستاسی)، او ؤ (دا کار یوه) وعده (خامخا) پوره کیدونکی.

**تفسیر :** یعنی په کلیو او ښارونو کښی د کورونو په منځ کښی ننوتل او ډیر خلق ئی ووژل او وینی ئی وبهولی او ګرد (تول) ئی سره لوټ او تالا کړل په دغه شانی هغه وعده چه الله تعالیٰ د دوی د سزا ورکولو په نسبت ورکړی وه پوره شوه.

ثُمَّ رَدَدْنَا لَكُمُ الْكَرَّةَ عَلَيْهِمْ وَأَمْدَدْنَاكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَجَعَلْنَاكُمْ أَكْثَرَ نَفِيرًا ﴿٦﴾ إِنْ أَحْسَنْتُمْ أَحْسَنْتُمْ لِأَنْفُسِكُمْ ۖ وَإِنْ أَسَأْتُمْ فَلَهَا ۚ

بیا بیرته وګرځوله (او درکړه) مونږ تاسي ته غلبه (دولت چه غالب شئ) پر دوی او مرسته (مدد) مو وکړه له تاسي سره په مالونو سره او په ځامنو سره او وګرځولی مونږ تاسي زيات له جهته د ملاتړه (لښکره). که نیکی وکړئ تاسي نو نیکی به کوئ تاسي لپاره د ځانونو خپلو. او که بدی کوئ تاسي نو (زيان ئی) پر نفسونو د تاسي دی.

**تفسير :** يعنی کله چه تاسي ځما په طرف رجوع وکړه او د توبی او انابت طريقه مو غوره کړه مونږ بيا تاسي ته پر دښمنانو بری او کاميابی درکړه. له نيکی او بدی څخه هر څه نفع او نقصان چه رسيږی، هم دا تاسو ته دررسيږی.

له غنمو زرغونيږی تل غنم غنم نه کيږی له اربشو نه اربشی له غنم
د نيکی جزا نيکی ده بدی سزا ده بده نيکی وکړه نيکی مومی د بدی سزا ده بده
د عمل له مکافاته غافل مشه له غنمو غنم کيږی له اربشو نه اربشه

فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ الْآخِرَةِ لِيَسُوءُوا وُجُوهَكُمْ وَلِيَدْخُلُوا الْمَسْجِدَ كَمَا دَخَلُوهُ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَلِيُتَبِّرُوا مَا عَلَوْا تَتْبِيرًا ﴿٧﴾

نو کله چه راغله وعده د وروستی (انتقام، فساد نو بيا می خپل بندګان مسلط کړ پر تاسي) دپاره د دی چه دوی بد کړی مخونه د تاسي يعنی د غم آثار پکښی ښکاره کړی) او دپاره د دی چه ننوځی مسجد د بيت المقدس ته لکه چه ننوتلی ؤ په هغه کښی اول ځلی او دپاره د دی چه هلاک (خراب) کړی هر هغه (ځای او شی) چه دوی غالب شوی وو (پری) په ډير سخت خرابولو او هلاکولو سره.

**تفسير :** يعنی په ډير ووژلو او وهلو سره ستاسي رنګونه خړ او مخونه مو خراب کړل او په مسجد اقصیٰ بيت المقدس کښی ننوتل او د پخوا په شان لوی شور ما شور او بلوه ئی ونښلوله،

صورتونه، هیاکل او نور شیان ئی خراب او تباه کړل او په دی شان د بنی اسرائیلو قوت د تل لپاره خاتمه ومونده.

---

عَسٰى رَبُّكُمْ أَنْ يَّرْحَمَكُمْ ۚ وَإِنْ عُدْتُّمْ عُدْنَا ۘ وَجَعَلْنَا جَهَنَّمَ لِلْكٰفِرِيْنَ حَصِيْرًا ۝٨

---

نژدی دی رب ستاسی چه رحم وکړی پر تاسی (که توبه مو وکړه) او که بیرته وګرځیدئ تاسی (فساد ته) نو مونږ به هم راوګرځو (عقوبت ستاسی ته) او ګرځولی دی مونږ دوزخ دپاره د کافرانو بندی خانه.

---

**تفسیر :** حضرت شاه صاحب لیکی: «په توریت کښی ویلی شوی ؤ چه بنی‌اسرائیل به دوه ځلی شرارت وکړی د هغه په جزاء به دښمنان د دوی پر ملک غالبیږی هم داسی وشوه یو ځلی «جالوت» غالب شو بیا الله تعالیٰ هغه د حضرت داؤد علیه السلام په لاس هلاک کړ. بیا بنی‌اسرائیلو ته لا زیات قوت ورکړ شو. د حضرت سلیمان علیه السلام په سلطنت کښی دوهم ځلی د پارسیانو څخه بخت نصر غالب شو، وروسته له دی نه د یهودانو سلطنت بیا قوت ونه موند. اوس فرمائی چه الله تعالیٰ په مهربانی راغلی دی که تاسی د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم تابع شئ نو هم هغه سلطنت او غلبه به بیا در په برخه شی او که تاسی بیا شرارت وکړئ نو مونږ به بیا درسره همغسی وکړو، یعنی محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم او مسلمانان به پر تاسی غالبان کړو. او په آخرت کښی د دوزخ اور در تیار دی. ځینی علماء له ړومبنی وعدی څخه د بخت نصر حمله اخیستی ده چه ۱۲۰۸ کاله پخوا تر هجرته وه او له دوهمی وعدی څخه «طیطوس رومی» مرادوی چه ۵۵۱ کاله پخوا تر هجرته واقع شوی ده ځکه چه په دغو دواړو حملو کښی یهودان په پوره ډول (طریقه) سره تباه او برباد شول او «مقدس هیکل» ئی له لاسه وویست، والله اعلم.

---

إِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ يَهْدِيْ لِلَّتِيْ هِيَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِيْنَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ الصّٰلِحٰتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيْرًا ۝٩

---

بیشکه دغه قرآن هدایت کوی (ښیی نیکانو ته) هغه (لیاره) چه هغه ډیره برابر سمه صافه ښه ده او زیری ورکوی مؤمنینو ته هغه (مؤمنان) چه کوی

دوی ښه (عملونه) د دی چه شته دوی ته اجر ډیر لوی (نعمت جنت).

**تفسیر** : هسی خو «تورات» هم بنی‌اسرائیلو ته لیار ښوونکی ؤ، لکه چه پخوا ئی فرمایلی دی. «هدی لبنی‌اسرائیل» لیکن دغه قرآن عظیم‌الشان گردی (تولی) دنیا ته له گردو (تولو) څخه زیات او ښه سمه، صافه مضبوطه لیار ښیی او نور گردی (تولی) قومی لیاری د هم دغه «اقوام» لاندی مندرج شوی دی. لهٰذا که نجات او بری ستاسی پکار وی، نو د خاتم الانبیاء محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم متابعت وکرئ! او پر دغه محمدی سم صفا سرک باندی درومئ! او هغه کسان چه په قلب او جوارح یعنی په ایمان او صالح عمل سره پر دغه سمه صافه ارته لیاره تگ کوی، نو قرآن کریم په دنیا کښی هغه ته طیبه حیات، او په آخرت کښی د جنت عظیم‌الشان بشارات آوروی. باقی هغه کسان چه له هغوی سره بیخی د آخرت څه فکر او خیال نشته او د غفلت او غرور په نشو کښی په دنیوی لذاتو او شهواتو کښی ډوب تللی دی او اصلاً د آخرت په فکر او سودا کښی نه دی د هغوی د بد انجام او خراب عاقبت ذکر داسی فرمائی:

وَّاَنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ اَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۱۰﴾ وَيَدْعُ الْاِنْسَانُ بِالشَّرِّ دُعَآءَهٗ بِالْخَيْرِ ۚ وَكَانَ الْاِنْسَانُ عَجُوْلًا ﴿۱۱﴾

او بیشکه هغه کسان چه ایمان نه راوړی په آخرت باندی تیار کړی دی مونږ دوی ته عذاب دردناک. او دعاء کوی (غواړی) انسان شر (پر خپل ځان او اولاد د زړه تنگی په وقت کښی) په (مثل د) غوښتلو د ده د خیر، او دی انسان تلوار کوونکی (په غوښتلو د خیر او د شر د دواړو).

**تفسیر** : یعنی قرآن کریم خلق د ډیرو ښو ښیگنو (فایدو) په طرف بولی، د اجر کبیر بشارات اوروی. او د بدی د مهلکو نتائجو څخه انسانان خبروی. لیکن د نادان انسان حال دا دی چه هغه سره د دغو گردو(تولو) خبرو د آوریدلو بیا د خپل ځان دپاره خرابی او بدی په همغه اشتیاق او الحاح سره غواړی لکه چه کومه نیکی خپل ځان دپاره غواړی دوی له انجام څخه خپلی سترگی پټوی او په ډیر تیزی او تلوار سره د بدیو او گناهونو په طرف ورځغلی او مندی وریسی وهی. بلکه ځینی بدبختان په صافو الفاظو سره پخپلو ژبو سره داسی وائی:

﴿ وَاِذْ قَالُوا اللّٰهُمَّ اِنْ كَانَ هٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَاَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ السَّمَآءِ اَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴾

ای الله! که دغه نبی پخپلی دغی دعوی کښی صادق او رښتین وی، نو پر مونږ باندی له آسمانه کانی واوروه! یا بل کوم سخت عذاب راباندی نازل کړه!» ځینی بیوقوفان له ډیره قهره او غضبه ربړدی (رپیږی). او شین او سور گرځی، او په دغه حالت کښی خپل ځان یا خپل اولاد یا نورو

ته بې له پوهیدلو او سنجولو (غور کولو) ښيرا کوي، ځینې د دنیا عاجله نفعه خپل معبود او مقصود ګرځوي. او په حلالو او حرامو او په هره یوه طریقه سره چه لاس ئې ور ورسیږي د هغه په لوري منډې وهي او نه پوهیږي چه د دغه ښایسته او زړه وړونکي شي لاندې مار یا لړم پټ دی چه بالاخر سرې د هلاکت په کنده کښې غورځوي. حقیقت دا دی چه بنيآدم د خپل تلوار او جلتی او د وړاندې او وروسته نه کتلو څخه د یو شي په ظاهري ښائست او سینګار، او وضعیت او هیئت غولیږي او د هغه پر بدو نتائجو هیڅ غور نه کوي پس هره خبره چه کوم وقت سانحه شوه فيالفور ئې وائي، یا په منډو یو لوري ته ځي او دی ته ئې فکر او فهم نه وي چه پښه ئې پر څه لګیږي. که انسان عجلت او جلتي پریږدي او له تدبر او متانت څخه کار واخلي او د هر کار عاقبت او انجام ته وګوري، نو له سره دغسې اغلاط او خطاوي ورڅخه نه صادریږي.

وَجَعَلْنَا الَّيْلَ وَالنَّهَارَ اٰيَتَيْنِ فَمَحَوْنَآ اٰيَةَ الَّيْلِ وَجَعَلْنَآ اٰيَةَ النَّهَارِ مُبْصِرَةً لِّتَبْتَغُوْا فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكُمْ وَلِتَعْلَمُوْا عَدَدَ السِّنِيْنَ وَالْحِسَابَ ۭ وَكُلَّ شَيْءٍ فَصَّلْنٰهُ تَفْصِيْلًا ﴿۱۲﴾

او ګرځولې ده مونږ شپه او ورځ دوه دلیله (د کامله قدرت خپل) نو محوه کړه مونږ علامه د شپې او وګرځوله مونږ علامه د ورځې روښانه (چه هر شی پکښې لیدل کیږي) لپاره د دې چه طلب کړئ تاسې (په رڼا د ورځې کښې) فضل له رب خپل او (دپاره د دې) چه معلوم کړئ وپوهیږئ تاسې (په دغه اختلاف د دې شپو او ورځو کښې) شمار د کلونو او حساب (د اوقاتو) او هر شیز (چه تاسې ورته اړ «مجبور» یئ) بیان کړی دی مونږ هغه په بیانولو واضحو سره،

**تفسیر** : د شپې تیاره، د ورځې رڼا، د دغو دواړو څخه کله د یوه لوئیدل او کله د بل، بیا د شپې له مخې د میاشتې ورو ورو لوئیدل، او د سپوږمې ورو ورو وړیدل، د سپوږمې تته یخه وړانګې او د لمر تیزې او تودې پلوشې، دغه ګرد (تول) د الله قدوس د کامله قدرت نمونې دي چه د دوی ځنې د هر یوه نظام علیٰحده او مستقل دی، او له هره یوه سره په زرهاؤ فوائد او مصالح تړلي دي او د دغو ګردو (تولو) مجموعي نظام سره بیل دی چه له شروع څخه تر اوسه او تر «ماشاء الله» پورې د نهایتو مضبوطو اصولو او تینګو قوانینو لاندې دور او حرکت کوي.
﴿ فَمَحَوْنَآ اٰيَةَ الَّيْلِ ﴾ : نو محوه کړه مونږ علامه د شپې) یعنې د شپې نمونه تیاره او ورکه ده او سپوږمي روښنايي د لمر په اعتبار سپکه روښنايي او لږ څه تیاره ښکاري لکه پخپله د سپوږمې

جرم (چکی او تیکلی) د کتونکی په نظر داغداره ښکاری.

﴿ وَجَعَلْنَآ اٰيَةَ النَّهَارِ مُبْصِرَةً ﴾ الآیة - او وګرځوله مونږ علامه د ورځی روښانه چه هر شی پکښی لیدل کیږی لپاره د دی چه طلب وکړی تاسی (په رڼا د ورځی کښی) فضل له رب خپل) یعنی د ورځی په وقت کښی چه د لمر په اشعه ؤ (پلوشو) هر شی صاف او ښکاره په نظر راځی خلق تازه دمه بیا پر خپلو چارو کښی لګیا کیږی او د رزق او روزی په تلاش او لټولو پسی لویږی او په رنګارنګ کارونو کښی مشغولیږی.. الغرض پر هغه شیانو چه د شپی له مخی د تیارو پرده لویدلی وی، د لمر پلوشی (اشعه) هغه ګرد (تول) سره بی پردی کوی. او د هغو کسانو سترګی خلاصوی چه تراوسه په درانه خوب کښی ویده او مدهوشه پراته وو چه دغه لوری او هغه لوری ته په تګ او راتګ او کاروبار کښی سره بوخت او لګیا په نظر راځی.

﴿ وَلِتَعْلَمُوْا عَدَدَ السِّنِيْنَ وَالْحِسَابَ ﴾ او دپاره د دی چه معلوم کړئ وپوهیږئ تاسی په اختلاف د دی شپو او ورځو کښی شمار د کلونو او حساب د اوقاتو) یعنی د شپی او د ورځی د تګ او راتګ د لمر او سپوږمی د ختلو او پریوتلو سره د میاشتو او د کلونو حساب او نور دیر اقسام لوی او واړه حسابونه اړ (مجبور) او تعلق لری.

﴿ وَكُلَّ شَيْءٍ فَصَّلْنٰهُ تَفْصِيْلًا ﴾ او هر څیز چه تاسی ورته اړ (مجبور) یئ بیان کړی دی مونږ هغه بیانولو واضحو سره) تاسی ښه وپوهیږئ چه له ویریدلو، او شور ماشور لګولو، او ژر غوښتلو څخه هیڅ یوه فائده په لاس نه درځی، الله تعالیٰ د خیر او د شر او د نور هر څیز اندازه هم داسی مقدره او مقرره کړی ده لکه چه د شپی او د ورځی اندازی مقرری دی چه د هیچا په ژر غوښتلو او چالاکی کولو سره نه شپه لنډیږی، او نه ورځ وړدیږی او ګرد (تول) پخپله همغه مقرر وقت کښی صبا او بیګا کیږی. د شر څخه وروسته د خیر ځنی پس ته د شر راتګ هم داسی وګڼئ! لکه چه د ورځی پسی شپه او شپی پسی ورځ راځی. او د هغه سلسله لا ینقطع او پرله پسی ده. د دنیا د ګرد (تول) خیر او شر سلسله د یوی معینی ضابطی او نظام لاندی ده چه د هغه ماتول، یا لری کول د هیچا له واکه (اختیاره) نه دی پوره او نه امکان لری. د دغی دنیا مکدر او منغض ژوندون، د توری تیاری شپی په شان وګڼئ چه د هغه په تیارو کښی انسان ته د خیر او شر نتائج بیخی په صاف دول (طریقه) سره نه ښکاری. بیشکه الله تعالیٰ انبیاء او مرسلین علیهم السلام رالیږلی دی، څو دوی د دغی شپی په توری تیاری کښی مخلوق ته سمه صافه او صحیحه لیاره وښیی، او د دوی په مخکښی سم د دوی له درجو سره رڼا وکړی چه په هغه سره خلق د خیر او شر په حقیقت وپوهیږی. او پری د حقائقو انکشاف په ښه شان سره وشی. لیکن داسی صریح او بدیهی انکشاف چه په هغه کښی د بشر هر فرد ته د انکار او د شبهو ځای او مجال پاتی نشی هلته به کیږی چه زمونږ د دغه دنیوی ژوندون شپه پای (آخر) ته ورسیږی او د محشر د صبا لمر وخیژی. هلته به د انسان هم هغه عمل چه د دنیا په تیاره ژوندون کښی هر وخت د ده د غاړی غړوندئ او غاړکئ وه خو د غفلت او جهالت او نورو په تیاره کښی نه په نظر ورتله، صاف او ښکاره ئی په نظر ځرګندیږی (ښکاریږی). او د یوه واضح او روښان کتاب

په شان به ور د مخه کیږی چه د هغی ورځی په رڼا به ئی هر سری بی تکلفه لوستلی شی.
﴿ فَكَشَفۡنَا عَنكَ غِطَآءَكَ فَبَصَرُكَ ٱلۡيَوۡمَ حَدِيدٞ ﴾ (۲٦) جزء د «ق» ۲۲ آیة ۲ رکوع) په هغه
وقت کښی چه خپل گرد (تول) واړه او لوی اعمال پخپل اصلی رنگ وگوری نو داسی به وائی:
﴿ مَالِ هَٰذَا ٱلۡكِتَٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةٗ وَلَا كَبِيرَةً إِلَّآ أَحۡصَىٰهَا ﴾ (۱۵ جزء د الکهف ٤٩ آیة ٦
رکوع)

---

وَكُلَّ إِنسَٰنٍ أَلۡزَمۡنَٰهُ طَٰٓئِرَهُۥ فِي عُنُقِهِۦۖ وَنُخۡرِجُ لَهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ كِتَٰبٗا يَلۡقَىٰهُ مَنشُورًا ﴿١٣﴾
ٱقۡرَأۡ كِتَٰبَكَ كَفَىٰ بِنَفۡسِكَ ٱلۡيَوۡمَ عَلَيۡكَ حَسِيبٗا ﴿١٤﴾

---

او هر انسان لازم کړی دی مونږ له ده سره عمل د ده په غاړه د ده کښی، او راوبه باسو ده ته په ورځی د قیامت کښی یو کتاب (لیکلی شوی) چه یو ځای به شی وبه وینی هغه غوړیدلی. (او وبه ویلی شی ده ته) ولوله (دا) کتاب د تا (عمل نامه خپله) ، کافی (بس) دی هم دا ځان ستا نن ورځ پر تا باندی حساب کوونکی (د نیکیو او د بدیو).

---

**تفسیر** : یعنی د قسمت شومی او د اعمالو بدی د ده د غاړی غروندی گرځیدلی دی چه له سره تری نه بیلیږی. او د قیامت په ورځ به ئی هم هغه په نظر ورځی او هر یوه انسان ته د ده اعمالنامه پخپل لاس کښی ورکاوه کیږی چه پخپله ئی ولولی او فیصله وکړی چه هغه کارونه چه ده پخپل گرد (تول) عمر کښی کړی دی، تول پکښی شته؟ یا تری څه شی پاتی دی؟ یا پکښی څه زیات شی لیکلی شوی دی نو هر سری به په دغه وقت کښی یقین کوی چه د هغه یوه یوه ذره عمل بی له تزئیده او تنقیصه پکښی شته. پخوا له دی نه دغه ذکر ؤ چه په دنیا کښی الله کتاب لوی قرآن لیږلی دی او هغه حساب چه له لمر او سپوږمی او له نورو سره متعلق دی، اوس په دغو لوستلیو شویو آیاتونو کښی ئی د قیامت د حساب او کتاب ذکر وفرمایه چه پر هغه پخوانی حساب او کتاب باندی د نتیجی په ډول (طریقه) مرتب کیږی.

---

مَّنِ ٱهۡتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهۡتَدِي لِنَفۡسِهِۦۖ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيۡهَاۚ
وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰۗ

---

هر چا چه سمه صافه لیاره ونیوله نو بیشکه هم دا خبره ده چه سمیږی دی

په لیاری دپاره د (نفعی د) ځان خپل او هر څوک چه گمراه شو پس بیشکه هم دا خبره ده چه گمراه کیږی پر ضرر د ځان خپل، او نه اخلی هیڅ اخیستونکی بار د گناه د بل چا:

**تفسیر** : یعنی الله تعالیٰ گردو(تولو) ته سمه صافه لیاره ورښولی ده، اوس که څوک پر هغی ځی که نه ځی اختیار لری او پخپله دی خپله نفعه او نقصان وگوری! ځکه چه د ده د عمل د طریقی نفع یا نقصان پخپله هم ده ته رسیدونکی دی. او د یوه سړی د گناه پیتی او بار به د بل په سر نه باریږی.

وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّىٰ نَبْعَثَ رَسُولًا ﴿١٥﴾

او نه یو مونږ عذاب ورکوونکی (هیڅ طائفی ته) تر هغه پوری چه ولیږو کوم رسول (چه لیاره د توحید او شریعت ورته بیان کړی).

**تفسیر** : یعنی بلاشبهه بد عمل آفت راولی، خو الله تعالیٰ پخوا له پوهولو څخه هیڅوک نه نیسی نو ځکه رسولان لیږی چه خلق غافله او بیخبره پری نږدی او له نیکو او بدو څخه ئی په پوره دول (طریقه) خبردار کړی. د هغو خبرو زیاته تشریح او دیر توثیق د انبیاؤ په ژبه وکړی شی چه پری انسان محض د عقل او فطرت په لیار ښوونه پوهیدی شی (مثلاً د باری تعالیٰ وجود یا ئی توحید) او هغه شیان چه ادراک ئی په محض عقل سره نه وی کافی د وحی او الهام په رڼا کښی ورانلدی کړی شی، نو ځکه د خلقت له ابتداء څخه الله تعالیٰ د وحی او د رسالت سلسله جاری فرمایلی ده څو د انبیاء علیهم السلام انوار او فیوض په دنیا کښی داسی یوه فضا پیدا کړی چه هیڅ یو معذب قوم په دنیا یا په آخرت کښی د جهل او د ناپوهی عذر به وراندی نه کړی شی. او په دغه پلمه (تدبیر) د الله تعالیٰ له عذابه ځان نشی ژغورلی (بچ کولی)

**تنبیه** : دلته مفسرانو د «اصحاب الفترة» او وړکیو پر تعذیب باندی بحثونه کړی دی چه مونږ ئی په دغه ځای کښی د تطویل له خوفه نه شو لیکلی.

وَإِذَا أَرَدْنَا أَن نُّهْلِكَ قَرْيَةً أَمَرْنَا مُتْرَفِيهَا فَفَسَقُوا فِيهَا فَحَقَّ عَلَيْهَا الْقَوْلُ فَدَمَّرْنَاهَا تَدْمِيرًا ﴿١٦﴾

او کله چه اراده وفرمایو مونږ د دی چه هلاک کړو کوم کلی (ښار) نو امر وکړو مونږ غنتانو (او متمولانو) د هغه (ښار) ته (په طاعت د الله سره) نو

فسق وکړی دوی په هغه کښې نو حق (او ثابت) شي پر (ذمه د وسیدونکی د) هغه خبره (د عذاب) نو هلاکوو مونږ دوی په هلاکولو سختو سره (سره له ګډولو د کلیو او ښارونو د دوی).

**تفسیر :** یعني کله چه د بدعملیو په سبب کوم کلی (یا ښار) تباه کیږی نو خلق ئی هم داسی یو ناځاپی دفعتاً نه نیول کیږی، او نه هلاکیږی. بلکه د حجت له اتمامه وروسته سزا ورکوله کیږی. او د نبی یا د نبی د نائبینو په ژبه د الله تعالیٰ احکام هغوی ته رسولی کیږی. خصوصاً د هغه ځای مشرانو او بارسوخو خلقو ته چه د هغوی له منلو او نه منلو اثر پر تولو لویږی خو هرومرو (خامخا) اطلاع ورکوله کیږی. کله چه دغه مغروران او متکبران سره له پوهی د الله تعالیٰ پیغام نه منی، او په توکو او مسخرو بلا تکلفه تری غاړی غړوی او په دغه وضعیت هغه کلی خراب او مسموموی، دلته نو دغه کلی خپل ځان ښکاره مجرم ثابتوی، او د الله تعالیٰ د عذاب مستحق ګرځی نعوذ بالله من شرور انفسنا.

**تنبیه : وقال بعض السلف ان الامر فی قوله تعالیٰ ﴿ اَمَرْنَا مُتْرَفِیْهَا ﴾ امرتکوینی قدری بالفسق. وقوله تعالیٰ ﴿ اِنَّ اللّٰهَ لَا یَاْمُرُ بِالْفَحْشَآءِ ﴾ معناه نفی الامر التشریعی، فلا منافاة ، فافهم**

وَكَمْ اَهْلَكْنَا مِنَ الْقُرُوْنِ مِنْۢ بَعْدِ نُوْحٍ ؕ وَكَفٰى بِرَبِّكَ بِذُنُوْبِ عِبَادِهٖ خَبِیْرًۢا بَصِیْرًا ﴿۱۷﴾

او ډیر هلاک کړی دی مونږ له (اهل د) قرنو پس له نوح (لکه عادیان او ثمودیان)، او کافي (بس) دی رب ستا په ګناهونو د بندګانو خپلو ښه خبردار ښه لیدونکی (عالم په پټو او ښکاره ؤ).

**تفسیر :** د آدم علیه السلام له زمانی څخه د نوح علیه السلام تر زمانی پوری ګرد (تول) خلق مسلمانان وو. وروسته شرک او بت پرستی پیدا شوه. نو نوح علیه السلام د هغوی د اصلاح دپاره ولیږلی شو. نوح علیه السلام تر سلهاؤ کلونو پوری خلقو ته دعوت او تبلیغ وکړ مګر هیڅ اثر ئی پر دوی ښکاره نشو بالاخر هغوی ګرد (تول) په طوفان (څپان) کښی هلاک کړل شول. وروسته له دوی نور ډیر اقوام (لکه عاد، ثمود او نور هم) هلاک کړل شو حاصل ئی دا چه د اقوامو د اهلاک سلسله د نوح علیه السلام د بعثت څخه وروسته شروع شوه.

﴿ وَكَفٰى بِرَبِّكَ ﴾ الآیة - او کافی بس دی رب د تا په ګناهونو د بندګانو خپلو ښه خبردار ښه لیدونکی عالم په پټو او ښکاره ؤ) یعنی هیڅوک بی قصوره نه نیول کیږی او هیچا ته

نامناسبه سزا نه ورکوله کیږی. بلکه د هر چا ګناهونو ته ګوری او د هغه ګرد (تول) اوضاع او اطوار په پوره ډول (طریقه) ورځرګند (ښکاره) او معلوم دی او د هغو سره مناسبه او موزونه سزا ورته ورکوی او همغسی معامله ورسره کوی.

مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهُ فِيهَا مَا نَشَاءُ لِمَنْ نُرِيدُ ثُمَّ جَعَلْنَا لَهُ جَهَنَّمَ يَصْلَاهَا مَذْمُومًا مَدْحُورًا ﴿١٨﴾

هر څوک چه وی چه غواړی (په عمل خپل سره فقط دغه دنیا نو په تلوار به ورکړو مونږ ده ته په دی دنیا کښی هومره چه مشیت وفرمایو مونږ دپاره د هغه چا چه اراده وفرمایو مونږ بیا به وګرځوو مونږ ده ته (عذاب د) دوزخ (په آخرت کښی) چه ننوځی به په هغه دوزخ کښی ملامت کړی شوی شړلی شوی (له رحمته).

**تفسیر :** یعنی دا ضروری نه ده چه د دنیا هر یو عاشق (مین) فوراً هلاک کړی شی. بلکه مونږ له دغو خلقو څخه هغو کسانو ته چه تش د دنیوی متاع دپاره سرګردانه ګرځی، هر چا ته چه اراده وفرمایو او هغومره چه اراده وفرمایو سم له خپله حکمته او مصلحته د دنیا سامان ورکوو. څو د دوی د جداوجهد او د فانی نیکیو فانی ثمره ور ورسیږی. او که هغوی ته آخری سعادت مقدر نه وی نو د شقاوت جام ئی څو په پوره ډول (طریقه) تر څندو (غاړو) پوری ورته ډک کړی شوی وی او په نهایت ذلت او رسوائی د دوزخ د ابدی بندی خانی خوا ته په تیل وهلو بیول کیږی.

وَمَنْ أَرَادَ الْآخِرَةَ وَسَعَىٰ لَهَا سَعْيَهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُولَٰئِكَ كَانَ سَعْيُهُمْ مَشْكُورًا ﴿١٩﴾

او هر څوک چه غواړی آخرت (جنت) او سعی کوی هغه ته سعی لائقه د ده (په طاعت د الله) حال دا چه دی (خالص) مومن هم وی نو دغه کسان ده سعی د دوی مقبوله (په نزد د الله کښی).

**تفسیر :** یعنی د هر چا په زړه کښی چه یقین او ایمان موجود وی او په نیک نیت د الله تعالیٰ

رضاء او خوښی او د اخروی ثواب دپاره د رسول الله د وړښوولی لیاره باندی په عملی دول (طریقه) مندی وهی او ورځغلی، نو مونږ د دوی کوښښ له سره ضائع او ابته (خراب) کوونکی نه یو. او یقیناً د احدیت په دربار کښې په حسن قبول سره به مفخر او سر لوړی کیږی.

كُلًّا نُّمِدُّ هٰٓؤُلَآءِ وَهٰٓؤُلَآءِ مِنْ عَطَآءِ رَبِّكَ ۚ وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحْظُورًا ﴿٢٠﴾

هر یوه (له دغو طلب گرو د دنیا او عقبیٰ) سره مدد کومک کوو مونږ (په متوالی د عطاء سره) دغه (اولی تولی) سره (چه طالبان د دنیا دی) او د دغه دوهم تولی سره (چه طالبان د عقبیٰ دی) له ورکولو د رب ستا، او نه دی ورکول د رب ستا (په دنیا کښې) منع کړی شوی (له هیچا نه).

**تفسیر** : یعنی الله تعالیٰ سم له خپله حکمته او مصلحته ځینو د دنیا طالبینو ته دنیا. او د آخرت گردو (تولو) طالبانو ته آخرت عطاء فرمائی. د الله تعالیٰ په عطاء کښې هیڅوک مانع او مزاحم نشی کیدی یا ئی دا مطلب چه د دنیا طالب وی یا د آخرت دغو دواړو ته له دنیوی امداد څخه حسب المصلحت حصه وررسیږی، محض د کفر او عصیان لامله (وجی) د دنیوی بخښښ دروازی او وروته نه پری تړلی کیږی.

اُنْظُرْ كَيْفَ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ۚ وَلَلْاٰخِرَةُ اَكْبَرُ دَرَجٰتٍ وَّاَكْبَرُ تَفْضِيْلًا ﴿٢١﴾

وگوره چه څرنگه فضیلت ورکړی (غوره کړی) دی مونږ ځینی د دوی ته پر ځینو نورو (په رزق او په نورو کښې) او خامخا آخرت ډیر لوی دی له جهته د مرتبو او ډیر لوی دی له جهته د بهتر والی (له دنیا نه).

**تفسیر** : یعنی لکه چه په دنیوی ژوندون کښې د مال، دولت، عزت، حکومت او د نورو په اعتبار یو په بل باندی یوه اندازه فضیلت لری په هم دی باندی قیامت هم قیاس کړئ! چه په آخرت کښې به د اعمالو او احوالو په لحاظ په څه اندازه د مراتبو فرق وی. لکه چه له نصوصو څخه ثابت دی چه د جنت درجات، او د جهنم درکات سره بی حده متفاوت دی. په حدیث

کښې راغلې دي چه د جنت په دواړو درجو کښې به د ځمکې او آسمان تفاوت وي. لاندني وسیدونکو ته به باندني وسیدونکي داسې ښکاري لکه چه مونږ ته له ځمکې څخه په افق کښې ستوري بریښي. پخوا ئې راښوولې ؤ چه د جنت دغه درجې د هغو کسانو په برخه کیږي چه د آخرت دپاره د هغه سره لائقې مندې وهلې وي او لازمه کوښښ او زیار (محنت) ئې ورښکلې وي. په ورستینو آیاتونو کښې تر لرې ځایه پورې د آخرت د سعې طریقه راښوولې شوې ده چه د هغې په تعمیل سره انسان ته دغه لوړ مقامات حاصلیږي. د ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه قول دی چه «حق تعالیٰ د (تورات) ګرد (تول) اخلاقي تعلیم د بني‌اسرائیل د سورت په (۱۵) آیاتونو کښې داخل کړی دی. هغه پینځلس آیتونه د دې سورت له دریمې رکوع له سره څخه شروع کیږي.

---

لَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتَقْعُدَ مَذْمُوْمًا مَّخْذُوْلًا ﴿۲۲﴾

---

مه نیسه (ای بنده) سره له الله معبود بل (او که دې ونیو) نو (عاجز) به کینې (تل په دوزخ کښې) ملامت کړی شوی (د خلقو) بې ملګرې (بې برخې کړی شوی له خیره).

---

**تفسیر :** یعنې شرک داسې ظاهر البطلان څیز دی چه د هغه له اختیارولو څخه د الله تعالیٰ او د هغه پرښتې، بلکه د دنیا د ګردو (تولو) پوهانو په نزد تاسې مذموم او ملزم ګرځئ! لکه چه نن مونږ پخپلو سترګو سره ګورو په هغو مذاهبو کښې چه د شرک صریح تعلیم ؤ هغه هم د پوهانو په جرګو کښې د ځای حاصلولو دپاره ورو ورو د خپل مذهب اصلاح او ترمیم کړی دی او د توحید په لورې رانژدې کیږي. هر یو عاقل دغه محسوس کړی دی چه اشرف‌المخلوقات انسان دپاره به دغه ډیر د ذلت او رسوائي موجب وي چه له خپله ښکته، یا د کوم عاجز مخلوق په مقابله کښې سر په سجده ولویږي، خصوصاً بیا هغو څیزونو ته د غوښتنې لاس وغځوی چه هغه ئې پخپله تورلې او جوړ کړی وي. هغه کسان چه پاک الله پریږدي او د غیر الله په مقابله کښې سرښکته کوي. نو بې نیازه الله جل جلاله د حقیقي نصرت او برکت دروازه پر دوی تړي او د کمزورۍ او بیکسۍ په حالت کښې ئې پریږدي. لکه چه د سخت مشکل او صعوبت په وقت کښې چه دې امداد او اعانت ته ډیر اړ (مجبور) او محتاج وي. هیڅوک به له ده سره مرسته (مدد) او معاونت ونه کړي. «ضعف الطالب والمطلوب»

---

وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْۤا اِلَّاۤ اِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا ؕ اِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ

اَحَدُهُمَآ اَوْ كِلٰهُمَا فَلَا تَقُلْ لَّهُمَآ اُفٍّ وَّلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيْمًا ﴿۲۳﴾ وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُلْ رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيٰنِيْ صَغِيْرًا ﴿۲۴﴾

او حکم فرمایلی دی رب ستا چه عبادت مه کوئ تاسی (د بل هیچا) مگر یواځی د هم دغه (الله) او (احسان کوئ) له والدینو (مور او پلار) سره په احسان کولو سره او که چیری هرومرو (خامخا) ورسید تا څخه (حدودود) زوړوالی ته یو له دی دواړو یا دواړه د دوی (یعنی مور او پلار) نو مه وایه ته دی دواړو ته (کلمه د) اف (هم) او مه رټه دوی دواړه او وایه دی دواړو (والدینو) ته خبره پسته (ادبناکه). او ښکته کړه دپاره د دی دواړو (والدینو) وزر (اوږه) د تواضع (نه د تکبر) له مهربانی او ووایه او ربه څما مهربانی (او ښښنه) وکړه دی دواړو ته لکه چه تربیه (پالنه) ئی کړی ده څما په هغه حال کښی چه زه صغیر (کمکی) ووم.

**تفسیر :** په حقیقت سره خو پاک الله د مولود وجود عطاء فرمائی مگر والدین (مور او پلار) د ده د ایجاد ظاهری ذریعه ده نو ځکه پاک الله په څو آیاتونو کښی د خپلو حقوقو پسی د والدینو د حقوقو ذکر فرمایلی دی په حدیث کښی راغلی دی «هغه سړی له خاورو سره برابر او ذلیل شو چه خپل مور او پلار ومومی او د دوی د خدمت کولو په وسیله جنت ځان ته حاصل نه کړی» په بل حدیث کښی فرمایلی شوی دی چه «جنت د میندو تر قدمونو لاندی دی».

که جنت غواړی له ربه تابعدار د مور او پلار شه!

که اور غواړی له قهاره د دی دواړو په آزار شه!

له والدینو سره نیکی کول دا دی چه په ژوندون کښی پخپل ځان او مال سره د هغوی خدمت وکړی او د زړه په اخلاص سره د دوی تعظیم او محبت په ځای راوړی او د مرکیدلو څخه وروسته د هغوی جنازه اداء کړی، او د دوی دپاره دعاء وغواړی، او حتیالمقدور د هغو عهد پوره کړی او د دوی له دوستانو سره په تعظیم او ښه سلوک معامله وکړی او د دوی له اقاربو سره د صلةالرحمی او ښیگڼی (نیکی) چاری وکړی. وغیر ذلک.

﴿اِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ اَحَدُهُمَآ اَوْ كِلٰهُمَا﴾ الآیة - او که چیری ورسید هرومرو تا څخه حدود د زوړوالی ته یو د دی یا دواړه د دی یعنی مور او پلار نو مه وایه ته دی دواړو ته کلمه د اف هم او مه رټه دوی او وایه دی دواړو ته خبره پسته ادبناکه.) په زوړتوب کښی د خدمت احتیاج زیات وی چه د دی لامله آل او عیال هم زړه تنگی او پریشانه کیږی او په زوړوالی کښی هوښ او حواس هم پخپل ځای کښی نه وی پاتی. د ښه او سعادتمن اولاد کار دا

وی چه په داسی وقت کښې د والدینو له خدمت څخه زړه تنګه نشی، پاک قرآن تنبیه راکوی چه د مور او پلار رټل او ناکاره خبری کول څیری ، بلکه تش د «اف» کلمه دی هم د دوی په مقابل کښې له خولی څخه نه وباسی! چه د زړه تنګی علامه ده، بلکه د خبرو او اترو په وقت کښې د دوی ادب او تعظیم دی په پوره دول (طریقه) سره وکړی! ابن مسیب رحمة الله علیه فرمائی چه «صالح ولد ته لازم دی چه له مور او پلار سره داسی خبری اتری وکړی لکه چه یو خطاکاره مریی، د خپل سخت مزاج بادار (سردار) سره په نهایت خوف او ویره خبری کوی» (په «اما یبلغن» کښې «اما» په اصل کښې «ان ما» دی. چه «ان» ئی شرطیه دی او «ما» پری زائد شوی دی دپاره د تاکید، نو ځکه نون د تاکید ئی په فعل داخل شوی دی. او چه یواځی «ان» وی بی له «ما» نو د تاکید د نون دخول پری جائز نه دی.)

﴿ وَاخۡفِضۡ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحۡمَةِ ﴾ الآیة - او ښکته کره دپاره د دی داړو والدینو وزر (اوږه) د تواضع له مهربانی او ووایه ای ربه! مهربانی او ښښنه وکړه دی دواړو ته لکه چه تربیه او پالنه ئی کړی ده ځما په هغه حال کښې چه زه صغیر او کمکی وم) یعنی څه وقت چه زه بیخی کمزوری او ناتوانه وم دوی ځما په تربیت او روزنه خپلی خولی بهولی دی، او وینی ئی څښلی، سم له خپله خیاله او توانه ماته د هر راز (قسم) راحت، خوشالئی او د ښیګڼی (فایدی) د رسولو په فکر کښې وو. له زرګونو آفاتو او حوادثو څخه ځما د ژغورنی (بچ کوونی) او ساتنی په فکر او کوښښ کښې وو. په څو څو ځلی ځما له خاطره خپل ځان په مصائبو او مصاعبو او متاعبو غورځولی دی. نن چه د دوی د ضعیفی وقت راغلی دی نو څه چه ځما له قدرته او توانه کیږی زه هم د هغوی خدمت او تعظیم کوم. خو د دوی پوره حق نشم اداء کولی، ځکه ای الله! ستا له درباره استدعا کوم چه په دغه زوړوالی او وروسته له موته پر دوی باندی د رحمت نظر وفرمائی! په حدیث کښې راغلی دی چه «د پاک الله رضاء د مور او پلار په رضاء کیدلو کښې ده او په غضب کیدل د الله تعالیٰ د مور او پلار په غضب کښې دی.» او په بل حدیث کښې داسی راغلی دی چه «ځان وساتئ! له عاقوالی د مور او پلار نه ځکه بوی د جنت چه د یو زر کاله لیار له مسافی نه نیکانو ته رسیږی هغه عاق الوالدین ته له سره نه رسیږی» بل حدیث دی چه «یفعل البار ماشاء ان یفعل فلن یدخل النار و یفعل العاق ماشاء ان یفعل فلن یدخل الجنة» کوی دی نیکی رسوونکی مور او پلار ته هر څه چه کوی هیچیری به ونه ننوځی اور ته او کوی دی عاق له مورو پلار نه هر څه چه کوی هیچیری به ونه ننوځی جنت ته»

---

رَبُّكُمۡ أَعۡلَمُ بِمَا فِي نُفُوسِكُمۡۚ إِن تَكُونُواْ صَٰلِحِينَ فَإِنَّهُۥ كَانَ لِلۡأَوَّٰبِينَ غَفُورٗا ﴿٢٥﴾

---

رب ستاسی ښه عالم (خبردار) دی په هغه څه چه په نفسونو (زړونو) ستاسی

کښې دی، که یئ تاسی نیکان (له خپلو میندو او پلرونو سره) نو بیشکه چه الله دی دپاره د توبه کوونکی ډیر مغفرت کوونکی (د خطیئاتو).

**تفسیر** : یعنی د والدینو تعظیم او د دوی په مقابله کښی تواضع او عاجزی کول ښائی چه د زړه په اخلاص او صمیمیت وی. الله تعالیٰ ته ښه معلوم دی چه کوم یو او څرنګه د مور او پلار خدمت کوی! که فی‌الواقع تاسی نیک او سعادتمن یئ! او د الله تعالیٰ په لوری رجوع کوئ! او په اخلاص او حق پیژندلو د دوی خدمت کوئ نو الله تعالیٰ به ستاسی خطاوی او تقصیرات معافوی. فرض ئی کړئ که کوم وقت د نیک نیتی ، له زړه تنګی، یا د فکر او چرت (طبیعت) د خرابوالی لامله ستاسی څخه د مور او پلار د خدمت څخه څه څیز پاتی شوی وی، نو بیا توبه او رجوع تری وکړئ! نو پاک الله ډیر مغفرت کوونکی دی.

کومی ګناه ته چه ته شا کړی په اخلاص د ما مضی عذابه څخه به شی خلاص

**تنبیه** : د دی خبری تفصیل دی په فقهیه ؤ او نورو کتابونو کښی وکوت شی چه د والدینو فرمان منل په کومو ځایونو کښی روا؟ او په کومو کومو ځایونو کښی ناروا دی؟ (چه د دوی امر د شرع څخه مخالف وی) په روح‌المعانی کښی هم پر دغه موضوع مفید او مبسوط کلام شوی دی. فلیراجع!.

وَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰى حَقَّهٗ وَالْمِسْكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيْرًا ﴿۲۶﴾

او ورکوه (ای بنده!) خاوند د خپلوی ته حق د هغه او (ورکوه! بیخی) مسکین نادار ته او (ورکوه!) مسافر ته او اسراف مه کوه! په اسراف کولو سره.

**تفسیر** : یعنی د اقاربو او خپلوانو هر قسم مالی او اخلاقی حقوق اداء کړئ! د محتاجانو او مسافرانو له احواله ځان خبروئ! فضول خرڅ دا دی چه پر معاصیو او لغویاتو مال ولګول شی یا په مباحاتو کښی بی فکره او بی له مصلحته او بی د خیر او شر معلومولو څخه دومره زیات ولګولی شی چه وروسته له هغه د حقوقو د فوتیدو او د حرامو د ارتکاب سبب وګرځی.

اِنَّ الْمُبَذِّرِيْنَ كَانُوْٓا اِخْوَانَ الشَّيٰطِيْنِ ۭ وَكَانَ الشَّيْطٰنُ لِرَبِّهٖ كَفُوْرًا ﴿۲۷﴾

بیشکه چه اسراف کوونکی دی دوی ورونه د شیطانانو (یعنی په مثل د

شیطانانو دی په شرارت او اتلاف کښې)، او دی شیطان رب خپل ته ډیر ناشکره.

**تفسیر :** یعني مال د الله تعالیٰ لوی نعمت دی چه په هغه سره په پوره زړه او خاطر جمعي سره عبادت کیږي او د نورو اسلامي خدماتو او د نیکیو انجام هم په هغه سره په عمل راځي. نو د مال بې ځایه لګول او صرفول داسي ناشکري ده چه د شیطان اغواء له تحریکه او په وقوع راځي، او انسان په ناشکري د شیطان سره مشابه او ورته کیږي، همغسي چه شیطان د الله تعالیٰ ورکړی قوتونه په عصیان او اضلال کښې صرفوي، دی هم د الله تعالیٰ ورکړی نعمتونه د هغه په عصیان او نافرماني او طغیان کښې لګوي.

وَإِمَّا تُعْرِضَنَّ عَنْهُمُ ابْتِغَاءَ رَحْمَةٍ مِّن رَّبِّكَ تَرْجُوهَا فَقُل لَّهُمْ قَوْلًا مَّيْسُورًا ﴿٢٨﴾

او که اعراض کاوه تا له دغو (ذوی القربیٰ مساکین ابن السبیل او نورو نه) دپاره د طلب د رحمت (مهرباني) له (طرفه د) رب ستا چه ته امید لرې د هغه (رحمت) نو ووایه هغوی ته خبره پسته خوږه.

**تفسیر :** یعني هغه څوک چه تل سخاوت کوي او یو وقت له هغه سره څه شي نه وي، نو د الله تعالیٰ په نزد چه د امید کوونکي ناامیده تلل ښه نه ښکاري او د هغه محتاج قسمت الله تعالیٰ سخیانو ته رسوي نو ځکه که یو وقت دی څه شي ورنشي کړی، نو په پستي او خوږې ژبې سره دی تری معذرت او معافي وغواړي! مثلاً ورته وویلی شي، کله چه الله تعالیٰ ماته څه شي راکړي نو انشاء الله تعالیٰ زه به د تا خدمت وکړم! په سختي او بد اخلاقي سره له جواب ورکولو څخه دغه اندیښنه شته چه چیرې ستاسي پخواني خیراتونه ابته او باطل او برباد شي.

وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُومًا مَّحْسُورًا ﴿٢٩﴾

او مه ګرځوه (مه نیسه!) لاس خپل (لکه) تړلی شوی تر غاړې د تا پورې (یعني بخل او شومتیا مه کوه) او مه ئې غځوه په بیخي غځولو سره (یعني اسراف هم مه

کوه) نو کښېنيني به ته ملامت کړی شوی (په امساک کښې) بی ماله پښیمانه شوی (په اسراف کښې).

**تفسیر**: یعنی چه ګرد (تول) ورته مخ واړوی چه کنسک بخل او مچ خوړونکی دی. یا دا چه دومره سخا او ورکړه دی ولی وکړه چه ته پخپله محتاج او ناداره پاتی شوی؟ الغرض په هره معامله کښې د توسط او اعتدال رعایت پکار دی. نه خپل لاس دی له شومتیا او بخله دومره کلک ونیسه! او راټولوه ئی چه ستا له غاړی سره ولګیږی. او نه له خپله طاقته او توانه زیات داسی خلاص لاس او پرانستلی موتی ولری چه وروسته ته پخپله محتاج او په غوښتلو او سؤال خوله پرانیځی او ستا لاس همغسی خلاص پاتی شی (ابن کثیر رحمة الله علیه) لیکی «فتعطی فوق طاقتک و تخرج اکثر من دخلک» یعنی له خپله طاقته زیات یا له خپله دخله زائد صرفول هم د «ولا تبسطها کل البسط» لاندی داخل دی. په حدیث کښې راغلی دی «ما عال من اقتصد» نه محتاجیږی هغه څوک چه ځان ته اقتصاد غوره کړی.)

مه دی تړه لاس په غاړه پوری له ډیر بخله
او مه ئی پرانیځه له حده زیات په ورکړه او سخا
څوک چه منځنی کړی ګزاره له هره بابه
نه به شی ملوم نه به محسور نه به خطا

إِنَّ رَبَّكَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَن يَشَاءُ وَيَقْدِرُ إِنَّهُ كَانَ بِعِبَادِهِ خَبِيرًا بَصِيرًا ﴿٣٠﴾

بیشکه رب فراخوی روزی دپاره د هغه چا چه اراده وفرمائی (د فراخی ئی) او تنګوی (ئی په هغه چا چه اراده وفرمائی د تنګی ئی)، بیشکه چه دغه (الله) دی په (مصالحو د بندګانو خپلو) ښه خبردار ښه لیدونکی (عالم په پټو او ښکاره ؤ).

**تفسیر**: یعنی ستاسی له امساک او لاس نیولو څخه به نه تاسی غنیان کیږئ. او نه به نور فقیران ګرځی او نه ستاسی له سخاوته هغه غنی کیږی. او نه تاسی فقیران کیدی شئ، د فقر او د غناء د مختلفو احوالو راليږل د هغه مالک علی‌الاطلاق په لاس دی ستاسی کار په توسط او اعتدال او اقتصاد کښې د الله جل جلاله د حکم امتثال دی حضرت شاه صاحب لیکی «یعنی د محتاجو د لیدلو څخه ته ډیر مه وار خطا کیږه! د هغه حاجت پوره کول ستا په ذمه نه دی. د

الله تعالیٰ په ذمه دی. لیکن دغه خبری نبی محمد صلی الله علیه وسلم ته وفرمایلی چه بی نهایته سخی واقع شوی ؤ. باقی د هغه چا له زړه ځخه چه مال نه وځی هغه باندی نبی حکم فرمایلی دی چه هغه دی خامخا څه ورکړی. هو! حکیم هم گرمی والا ته یخه دواء ورکوی، او یخنی والا ته توده دواء.»

﴿إِنَّهُۥ كَانَ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرًۢا بَصِيرًا﴾ بیشکه چه دغه الله دی په مصالحو د بندگانو خپلو ښه خبردار ښه لیدونکی عالم په پټو او ښکاره ؤ) یعنی د هر یوه بنده د ظاهری او باطنی احوالو او مصالحو ځخه خبر دی، سم له هغه ورسره معامله کوی. په حدیث قدسی کښی نبی فرمایلی دی چه ځما ځینی بندگان هغه دی چه د هغوی د حالونو درستی په فقر کښی ده که زه هغوی غنی وگرځوم نو د هغوی دنیا تباه کیږی ، او د هغه بالعکس ځینی کسان می غنی گرځولی دی. که له دوی نه می فقیران جوړ کړی وی نو پر دین به نه وی قائم پاتی شوی، علاوه پر دی د ځینو اشقیاؤ په حق کښی ظاهری غناء د امهال او استدراج په ډول (طریقه) یا فقر او تنگسه د عقوبت په طریقه سره وی الله تعالیٰ مو له دغو دواړو ځخه وساتی! مونږ پخوا له دی نه په څو ځایونو کښی دغه تقریر کړی دی.

---

وَلَا تَقْتُلُوٓا۟ أَوْلَٰدَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَٰقٍ ۖ نَّحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ ۚ إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْـًٔا كَبِيرًا ﴿٣١﴾

---

او مه وژنئ تاسی اولاد خپل د ویری د فقره (او فاقه خپله چه که ډیر شی نو روزی به راباندی تنگه کړی ځکه چه هم دا مونږ روزی ورکوو دوی ته او تاسی ته هم، بیشکه چه قتل د دوی ده خطاء (گناه) لویه (چه د نسل او د نوعی قطع ده).

---

**تفسیر** : ځینو کافرانو خپل اولادونه وژل چه د دوی خواړه او لگښت مونږ له کومه کړو په ۸ جزء د الانعام په (۱۹) رکوع کښی په هم دغه مضمون یو آیت تیر شوی دی تفصیل دی وکوت شی. او دغه د بی رحمی حرکت د انسانیت او د تهذیب له اصوله مخالف دی. او دغه تعریف څرگندیږی (ښکاریږی) چه داسی کوونکی د الله تعالیٰ پر رزاقیت اعتماد نه لری.

---

وَلَا تَقْرَبُوا۟ ٱلزِّنَىٰٓ ۖ إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةً وَسَآءَ سَبِيلًا ﴿٣٢﴾

---

او مه نژدی کیږئ تاسی زنا ته بیشکه چه دا زنا ده قبیحه (عقلاً او شرعاً)، او بده ده دغه زنا له جهته د روش هم (چه زیان او فتنه تری پیدا کیږی).

**تفیسر :** یعنی زنا کول خو ډیر سخت کار دی. تاسی زنا ته له سره مه نژدی کیږئ!. په «ولا تقربوا» کښی د زناء له دواعیو او مبادیو څخه د نه نژدیوالی او نه تقرب هدایت کړی شوی دی یعنی د پردی ښځی ته بی له شرعی عذره کتل او نظر کول مچی کول (قبله) او لاس وروړل (لمس) او نورو څخه ځانونه ژغوریئ! (ساتئ) او بیخی د پردیو ښځو له مقاربته لری ګرځئ! ځکه چه له زنا څخه په انسابو کښی بی نظمی او بی ترتیبی او اشکال پیښیږی او ډیر قسم جنګونه او جګړی تری پیدا کیږی، او د ګردو (تولو) دپاره یوه بده لیاره په وجود راځی.
حضرت شاه صاحب لیکی «که دغه لیاره جوړه شی، نو یو سړی به د بل سړی پر ښځه نظر آچوی او هغه به د ده ښځی ته ګوری،» د امام احمد رحمة الله علیه په مسند کښی راغلی دی چه «یوه سړی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته عرض وکړه چه «ماته اجازه راکړه چه زنا وکړم!» د دی خبری د اوریدلو څخه ګرد (تول) حاضرین ورته په قهر شول چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخکښی داسی ګستاخی؟ خبردار چپ شه! رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل «ماته رانژدی شه!» کله چه دی ورنژدی شو، نو هغه ئی خپل خوا کښی کیناوه او وئی وفرمایل چه «آیا ته دغه حرکت د خپلی مور، خور، ترور، توری او نورو په نسبت خوښوی؟» هغه عرض وکړه چه «یا رسول الله! الله دی ما له تا جار (قربان) کړی! له سره ئی نه خوښوم!» نو رسول الله مبارک وفرمایل چه «نور خلق هم تا غوندی دی، او له سره خپلو میندو، خویندو، ترورییانو، توریګانو او نورو په نسبت دغسی فعل نه خوښوی.» بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته دعاء وکړه چه ای الله د ده ګناه ورمعافه کړه! او زړه ئی ورپاک کړه! او فرج ئی وساته!» ابو امامه فرمائی چه له دغه دعاء څخه وروسته دغه سړی داسی متقی شو چه ښځو او نورو مناهیو ته بی ئی له سره نه کتل».

**«اللهم صل علیٰ سیدنا محمد وعلیٰ آل سیدنا محمد وعلیٰ اصحاب سیدنا محمد وبارک وسلم»**

---

**وَلَا تَقۡتُلُوا النَّفۡسَ الَّتِیۡ حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالۡحَقِّ ؕ وَمَنۡ قُتِلَ مَظۡلُوۡمًا فَقَدۡ جَعَلۡنَا لِوَلِیِّهٖ سُلۡطٰنًا فَلَا یُسۡرِفۡ فِّی الۡقَتۡلِ ؕ اِنَّهٗ کَانَ مَنۡصُوۡرًا ﴿۳۳﴾**

---

او مه وژنئ تاسی نفس هغه چه حرام کړی دی الله (وژل د هغه) مګر په حقه سره (چه ارتداد او زناء مع الاحصان او قصاص دی)، او هر څوک چه ووژلی شو په دی حال چه مظلوم وی نو په تحقیق ګرځولی دی مونږ دپاره د وارث د هغه زور (او قوت چه له قاتل څخه انتقام اخستی شی) نو اسراف دی نه کوی په قتل کښی (چه غیر حق بل څوک وژنی بی له قاتله)، په تحقیق دغه

(وارث) دی مدد ورسره کړی شوی.

**تفسیر :** په صحیحینو شریفینو کښی راغلی دی چه د هیڅ مسلمان وینه تویول نه دی حلال، مګر په دری صورتونو کښی (۱) د ځان په بدل ځان. (۲) د محصن زانی. (۳) د هغه سړی چه دین پریږدی، یا مرتد شی او له جماعته بیل شی.

﴿ وَمَن قُتِلَ مَظْلُومًا ﴾ الآیة - او هر څوک چه ووژلی شی په دی حال چه مظلوم وی نو په تحقیق ګرځولی دی مونږ دپاره د وارث د هغه زور او قوت چه له قاتل څخه انتقام اخیستی شی نو اسراف دی نه کوی په قتل کښی چه غیر حق بل څوک وژنی بی له قاتله) یعنی د مقتول اولیاء اختیار لری چه د حکومت په وسیله د هغی وینی بدل واخلی او هغه قاتل په قصاص ورسوی، لیکن د بدل اخیستلو په وقت کښی له حده تیری ونه کړی! مثلاً د قاتل په ځای دی غیر قاتل نه وژنی!، یا نور بی ګناهان دی له قاتل سره نه شاملوی! یا د قاتل پوزه غوږونه، او نور دی نه پری کوی! او مثله دی ونه کړی!.

﴿ إِنَّهُ كَانَ مَنصُورًا ﴾ په تحقیق دغه وارث دی مدد ورسره کړی شوی.) یعنی الله له هغه وارث سره مدد وفرمایه چه د بدل اخیستلو حق ئی ورکړ. او حاکمانو ته ئی امر وفرمایه چه د دغه وارث په حق رسونه کښی دی هیڅ قصور ونه کړی!. بلکه پر هر چا باندی لازم دی چه د وینی په بدل اخیستلو کښی له وارث سره معاونت او مرسته (مدد) وکړی! نه چه بالعکس د قاتل حمایت وکړی! او پر وارث باندی هم لازم دی چه د یوه په ځای دی دوه تنه نه وژنی!. یا که پخپله قاتل ئی په لاس ورنشی، د هغه قاتل ځوی یا ورور یا نور ووژنی. لکه چه د جاهلیت په زمانه کښی هم داسی بد رواج ؤ.

وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ حَتَّىٰ يَبْلُغَ أَشُدَّهُ ۚ وَأَوْفُوا بِالْعَهْدِ ۖ إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْئُولًا ﴿٣٤﴾

او مه نژدی کیږئ تاسی مال د یتیم ته (او تصرف پکښی مه کوئ) مګر په هغی طریقی سره چه وی هغه ډیره ښه (په حفاظت او زیادت کښی)، تر هغه پوری چه ورسیږی (یتیم) حد د بلوغ خپل ته (چه د رشد آثار دی) او وفا کوئ په عهد (د الله)، بیشکه چه عهد دی پوښتیدلی شوی (له عاهده).

**تفسیر :** یعنی د یتیم مال ته لاس مه وروړئ!. هو! که د هغه د مال حفاظت او صیانت او خیر غوښتنه د تاسی مقصود وی، نو په هغه کښی هیڅ مضائقه نشته څه وخت چه دغه یتیم (پلار مړی) ځلمی شی او پخپل نفع او نقصان وپوهیږی، نو مال ئی وروسپارئ!

په دغه (اوفوا بالعهد) کښې ګرد (ټول) عهدونه داخل دي. که له الله تعالیٰ سره وکړی شي يا له بندګانو سره مشروط په دې چه غير مشروع نه وي. حضرت شاه صاحب ليکي «له چا سره د صلحي قول او اقرار ورکولو څخه وروسته، بدعهدي کول ضرور ګناه ده او د هغه وبال خامخا پر مستخلف لويږي.»

وَأَوْفُوا الْكَيْلَ إِذَا كِلْتُمْ وَزِنُوا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيمِ ۚ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا ﴿٣٥﴾

او پوره ورکوئ تاسي پيمانه هر کله چه پيمانه کوئ تاسي او تول کوئ تاسي په تله (وزن) برابر سره (چه پکښې کوږوالی نه وي)، دغه (پوره کول د کيل او وزن) خير ډير غوره او خورا (ډير) ښه دی له خيانته له جهته ده مآل (او عاقبت).

**تفسير :** يعنې د وزن په وقت کښې ډنډې مه وهئ! په تللو او پيمانه کولو کښې له تزئيد او تنقيصه د معاملاتو نظام مختل (خراب) کيږي، او پکښې ګډودي راځي د شعيب عليه السلام د قوم د اهلاک قصه پخوا له دې نه تيره شوه د هغوی ډيره لويه عملي ګناه هم دغه بيان شوې ده. په رواياتو کښې راغلي دي. «د هر هغه سړي چه پر حرامو قدرت ومومي او محض د الله تعالیٰ له ويرې هغه ونه کړي نو الله تعالیٰ پخوا له آخرته په دنيا کښې د هغه نعم البدل ورعطاء کوي.
(دغه پوره کول د کيل او وزن خير، امانت، ډير غوره او خورا (ډير) ښه دی له جهته د مال او عاقبت) يعنې اګر که دغابازي اول لږ څه چليږي مګر کله چه خلق پرې خبريږي، نو بيا ورسره معامله نه کوي او په سپکه ورته ګوري. او پوره حقورکونکي ته ګرد (ټول) خلق په درنو سترګو ګوري او ښه سړی ورته وائي او تجارت او معامله ئې په ښه شان سره چليږي.

وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ ۚ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَٰئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا ﴿٣٦﴾

او مه کوه پيروي (تعقيب) د هغه کار چه نه وي تاته په هغه پوه (قول وي که فعل)، بيشکه غوږ او سترګه او زړه هر يو له دغو (درې واړو) دی له هغه څخه پوښتنه کړی شوی (په قيامت کښې چه تا په دنيا کښې ولې ګناه کوله).

**تفسیر :** یعني بې له تحقیقه خبره له خپلې ژبې څخه مه وباسه! او نه په ناپوهي او په پټو سترګو د هغه متابعت وکړه! انسان ته ښائي چه له خپلو غوږونو او زړه او ماغزو څخه کار واخلي! او د کفایت په اندازه تحقیق او تعمق وکړي! بیا دې یو خبره له خولې څخه وباسي! یا پر کومه خبره عمل وکړي! له اوریدلو شویو خبرو بې له پوهیدلو او سنجولو (غور کولو) څخه هم داسې په تش اټکل او چرت (خیال) سره کوم قطعي حکم صادر نه کړي! او نه پرې عمل وکړي!. په دغه کښې د دروغو شهادت غلط تهمتونه لګول، بې له تحقیقه خبرې اوریدل، بې له تحقیقه د کوم سړي د ربړولو (تکلیف رسولو) پسې لویدل، یا چېتې (بیکاره) بغض او عداوت ورسره قائمول، د پلرونو او د نیکونو چېتې (بیکاره) تقلید پسې لویدل، د رسم او رواج لامله (له وجې) د خلاف الشرع او ناحقې خبرې حمایت کول، د نالیدلو او نااوریدلو شیانو، لکه لیدلي، یا اوریدلي ښرګندول (ښکاره کول)، د غیر معلومو شیانو په نسبت داسې دعوی کول چه زه پرې پوهیږم، دغه ګرد (ټول) صورتونه د دغه آیت لاندې شامل دي. په یاد ئې ولرئ! چه د قیامت په ورځ کښې د دغو ګردو (ټولو) قوتونو په نسبت به سؤالونه کیږي چه تاسې دغه قوتونه په کومو کومو ځایونو کښې لګولي دي؟ او ولې تاسې هغه قوتونه مو بې ځایه او بې موقعه صرف کړي دي؟.

---

وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا ۖ إِنَّكَ لَن تَخْرِقَ الْأَرْضَ وَلَن تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُولًا ﴿٣٧﴾

---

او مه ګرځه ته په ځمکه کښې په دې حال چه خاوند د خیال (او تکبر اوسې) ، بیشکه چه ته له سره به څیرې نه کړې ځمکه (په دربولو د پښو سره له کبره) او له سره به ونه رسیږې (سرونو د) غرونو ته (په جګولو (وچتولو) د سر سره له ډیرې نخرې) له جهته د اوږدوالي.

---

**تفسیر :** یعني د متکبرانو تقلید او متابعت انسان ته ښه نه ښکاري. نه په زوره د پښو په دربولو سره ځمکه څیریدې شي، او نه د غاړې له هسکولو (اوچتولو) او د تتر د باندې ایستلو څخه سړی د غرونو په قدر جګیدې (وچتیدې) شي نو بیا په داسې ضعف او عجز او په دغه بساط کښې خپل ځان دومره پړسولو او اوږده غځولو څخه څه فائده په لاس راځي؟

---

كُلُّ ذَٰلِكَ كَانَ سَيِّئُهُ عِندَ رَبِّكَ مَكْرُوهًا ﴿٣٨﴾

ګرد (ټول) دغه (۱۱ امرونه ۱۲ نهي ولاتجعل نه تر دی ځایه) دی بدی د هغه په نزد د رب ستا ناخوښه (مبغوضه).

**تفسير :** يعنی د هغو خبرو ممانعت چه پاس شوی دی، د هغو د کولو ځخه د رب العٰلمين بيزاری او د هغو شيانو په کولو سره چه حکم شوی دی د هغو د نه کولو ځخه د الله العٰلمين نارضائی او خفګان او بيزاری دی.

ذٰلِكَ مِمَّآ اَوْحٰٓى اِلَيْكَ رَبُّكَ مِنَ الْحِكْمَةِ ؕ

دا (ټول احکام) له داسی قسمه دی چه وحی کړی ده تاته رب ستا له حکمت (او عقلی کارونو ځخه).

**تفسير :** يعنی پاس هغه پر مغز او بيش بها نصيحتونه چه شوی دی دا ګرد (ټول) هغه علم او حکمت او تهذيب او موعظت او اخلاقی خبری دی چه سليمه عقول ئی قبلوی چه هغه ګرد (ټول) د وحی په وسيله نبی امی صلی الله عليه وآله وصحبه وسلم ته بلاواسطه او دغه محمدی امت ته د رسول الله صلی الله عليه وسلم په واسطه نازل او راليږلی شوی دی.

وَلَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتُلْقٰى فِىْ جَهَنَّمَ مَلُوْمًا مَّدْحُوْرًا ﴿۳۹﴾

او مه نيسه ته له الله سره معبود بل (که دی ونيو) نو وبه غورځولی شی په دوزخ کښی ملامت کړی شوی رټلی شوی (له رحمته د الله).

**تفسير :** د پاس ذکر شويو نصائحو له توحيده شروع شوی ؤ، د هغه په خاتمه کښی چه ﴿لَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتَقْعُدَ مَذْمُوْمًا مَّخْذُوْلًا﴾ ده بيا هم د توحيد تذکر او يادونه شوی ده څو قاری وپوهيده شی چه د تمامو حسناتو ابتداء او انتهاء د الله تعالیٰ د خالص توحيد سره وی.

اَفَاَصْفٰىكُمْ رَبُّكُمْ بِالْبَنِيْنَ وَاتَّخَذَ مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ اِنَاثًا ؕ اِنَّكُمْ لَتَقُوْلُوْنَ قَوْلًا عَظِيْمًا ﴿۴۰﴾ ع

آيا نو غوره کړی يئ تاسی رب ستاسی په ځامنو سره او (پخپله الله ځان ته

په زعم ستاسی) نیولی دی له پرښتو څخه ښځی (لونی)، بیشکه تاسی چه یئ خامخا وایئ خبره ډیره لویه.

**تفسیر** : یعنی یو د الله تعالیٰ دپاره د اولاد تجویز، او اولاد هم د جونو په صورت چه تاسی هغو ته په ډیره سپکه ګورئ ډیر جسارت او لویه سپین سترګی او ګستاخی ده.

وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِي هَٰذَا الْقُرْآنِ لِيَذَّكَّرُوا وَمَا يَزِيدُهُمْ إِلَّا نُفُورًا ﴿٤١﴾

او خامخا په تحقیق مکرر بیان کړی دی مونږ په دغه قرآن کښی دپاره د دی چه پند پری واخلی دوی او نه زیاتوی دوی ته (دغه مکرر بیان) مګر تیښته او لری والی (له حقه).

**تفسیر** : یعنی قرآن عظیم په مختلفو عنوانونو او په رنګارنګ دلائلو او شواهدو دغه مشرکین پوهوی لیکن دغه بدبختان د پند او نصیحت د حاصلولو په ځای لا زیات تور خوری او په وحشت تښتی او د بی‌لیاری په لوری مندی وهی او ورځغلی.

قُلْ لَوْ كَانَ مَعَهُ آلِهَةٌ كَمَا يَقُولُونَ إِذًا لَابْتَغَوْا إِلَىٰ ذِي الْعَرْشِ سَبِيلًا ﴿٤٢﴾

ووایه (ای محمده! دوی ته) چه که وی له الله سره نور معبودان لکه چه وائی دغه مشرکان نو هلته به خامخا لټولی به ؤ دغو (معبودانو) طرف د څښتن (خاوند) د عرش (او مالک الملک ته) لپاره (د ورتلو لپاره د جنګ).

**تفسیر** : یعنی دغه اصنام او نور چه تاسی ئی ای مشرکانو د الوهیت شریکان او د خدائی حصه داران راښیئ که په واقع او رښتیا سره معبودان وی، نو دوی به د پردی محکومیت څرنګه خوښاوه، ښائی چه ګرد (تول) به تولیدل او د الله تعالیٰ د سلطنت تخت به ئی په بل مخ اړوه که داسی ویلی کیږی چه د عرش د لوی څیښتن (خاوند) په مقابله کښی د دوی څه زور او قوت نه رسیږی نو د داسی یو عاجز مخلوق عبادت کول په انتهائی درجه حماقت دی. او که هغه معبودان پخپله د رب العرش خوښی او رضا خوښوونکی دی او د هغه د قرب حاصلولو پسی ګرځی او د هغه خوشالی ځان ته ضروری بولی، نو د هغو عابدانو ته زیات د دی خبری ضرورت شته چه د الله اکبر د رضاء او د خوښی حاصلولو په فکر کښی ولویږی، لیکن الله تعالیٰ د ګردو

(تولو) (انبیاؤ علیهم السلام په ژبه او د انسانی فطرت په معرفت له شرک څخه د خپلی بیزاری اظهار فرمایلی دی، نو بیا د تعجب ځای دی چه دغه احمقان پر کومه لیاره د ظالمانو او بی انصافانو په شان روان دی.

سُبۡحٰنَهٗ وَتَعٰلٰی عَمَّا یَقُوۡلُوۡنَ عُلُوًّا کَبِیۡرًا ﴿۴۳﴾ تُسَبِّحُ لَهُ السَّمٰوٰتُ السَّبۡعُ وَالۡاَرۡضُ وَمَنۡ فِیۡهِنَّ ؕ وَاِنۡ مِّنۡ شَیۡءٍ اِلَّا یُسَبِّحُ بِحَمۡدِهٖ وَلٰکِنۡ لَّا تَفۡقَهُوۡنَ تَسۡبِیۡحَهُمۡ ؕ اِنَّهٗ کَانَ حَلِیۡمًا غَفُوۡرًا ﴿۴۴﴾

پاکی د الله او ډیر پورته دی له هغه څه چه وائی دوی په ډیری لوئی لویئی سره تسبیح وائی ده ته آسمانونه اوه واړه او ځمکه او هغه څوک چه په دوی کښی دی او نشته هیڅوک (له مخلوقاتو) مگر چه تسبیح وائی سره له ثناء د دغه (الله) مگر نه پوهیږئ تاسی په تسبیح د هغوی، بیشکه دغه (الله) دی ښه تحمل والا (په تاخیر د عقوبت دپاره د انابت) ښه رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره).

**تفسیر :** یعنی هر مخلوق د «قال» په ژبی، یا د «حال» په ژبی د الله تعالیٰ پاکی او ښیگنه (صفت) بیانوی لیکن تاسی پری نه پوهیږئ (ځکه ستاسی په لغت سره نه دی) یعنی د تأمل نه کولو له سببه یا د هغه قوت د فقدان لامله (له وجی) چه د هغه په ذریعه د ځینو مخلوقاتو «قالی» تسبیح واورئ او پری وپوهیدی شئ، او که کوم سری سره له نه پوهیدلو هغه قبول ونه کری یا د هغه پر مقتضی عمل ونه کری نو دغه پوهیدل د نه پوهیدلو په حکم کښی دی.
﴿ اِنَّهٗ کَانَ حَلِیۡمًا غَفُوۡرًا ﴾ بیشکه دغه الله دی ښه تحمل والا په تاخیر د عقوبت دپاره د انابت ښه رحم والا په انعام د اجر او ثواب سره) یعنی هغه ذات چه گرد (تول) مخلوقات د هغه پاکی او تسبیح بیانوی تاسی ورته شریکان او لونی او اولاده تجویز کوئ نو دغه داسی گستاخی سپین‌سترگی ده چه د هغه په مقابله کښی ښائی تاسی سم د لاسه فوراً هلاک کرل شئ! لیکن الله تعالیٰ تاسی د خپل حلم په لحاظ په تلوار سره نه نیسی، او که توبه وباسئ نو ببښی مو هم.

وَاِذَا قَرَاۡتَ الۡقُرۡاٰنَ جَعَلۡنَا بَیۡنَکَ وَبَیۡنَ الَّذِیۡنَ لَا یُؤۡمِنُوۡنَ بِالۡاٰخِرَةِ حِجَابًا مَّسۡتُوۡرًا ﴿۴۵﴾

او کله چه لولی ته (ای محمده) قرآن نو گرځوو (پیدا کوو) مونږ په منځ ستا او په منځ د هغو کسانو کښې چه نه راوړی ایمان په (راتللو) د آخرت پرده پټوونکی تا لره (له سترګو د دوی)

**تفسیر :** یعنی هغه سړی چه آخرت نه منی او د خپل ښو او بدو انجام ته څه فکر نه چلوی، نو هغه به د نصیحت په طرف ولی خپل فکر لګوی، کله چه دی له سره د نجات په فکر کښې نه دی، نو د نجات ورکوونکی رسول الله صلی الله علیه وسلم په احوالو او اقوالو کښې د غور کولو یا د رسالت تر درباره پورې د رسیدلو څه ضرورت به ورپاتی وی. پس هم دغه په آخرت باندی ایمان نه راوړل او د انجام له طرفه بی فکری هغه معنوی پرده ده چه د دی سړی او د نبی علیه السلام (من حیث هو نبی) په منځ کښې ځرولی (لګولی) کیږی.

وَّجَعَلْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً اَنْ يَّفْقَهُوْهُ وَفِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرًا ۭ وَاِذَا ذَكَرْتَ رَبَّكَ فِي الْقُرْاٰنِ وَحْدَهٗ وَلَّوْا عَلٰٓي اَدْبَارِهِمْ نُفُوْرًا ۝۴۶

او ګرځوو (اچوو) مونږ پر زړونو د دوی پردی (موانع) له دی خبری نه چه پوه شی دوی په دغه (قرآن) او (ګرځوو اچوو) مونږ په غوږونو د دوی کونوالی (چه قرآن وانه وری) او کله چه یاد کړی ته رب خپل په قرآن کښې یواځی (په توحید سره بی له یادولو د باطلو معبودانو د دوی) نو بیرته ګرځی دوی په شاؤ خپلو په دی حال کښې چه ترهیدونکی وی (له اوریدولو د توحید نه).

**تفسیر :** ړومبی دغه ذکر ؤ چه دوی د رسول الله د صداقت پوری نشی رسیدی. دلته د دی خبری بیان دی چه د دوی فهم او فکر د قرآن عظیم تر زده کولو پوری هم نشی رسیدی. یعنی په دغه قرآن کریم کښې داسی یو قوی تاثیر شته خو پر کفارو باندی د هغه اثر ځکه نه لویږی چه دوی تری په پرده کښې دی. لکه چه لمر ګرد (تول) جهان روښانوی، لیکن که کوم سړی په داسی یوه کوټه کښې ناست وی چه تر ځمکی لاندی جوړه شوی وی او د رڼا د ننوتلو ګرد (تول) منافذ او سوری ئی بند وی او د دغی کوټی وسیدونکی، هیڅ له لمره نه وی خبر، نو په دغه اعتبار ګواکی د لمر د رڼا اثر هیچیری نشته.

﴿ وَفِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرًا ﴾ او ګرځوو، اچوو مونږ په غوږونو د دوی کونوالی چه قرآن وانه وری) یعنی کله چه دوی نه غواړی چه د انتفاع او استفادی په نیت ئی واوری، نو ګواکی اوریدونکی

نه دی.

**تنبیه :** دغه چه الله تعالیٰ حجاب او پردی او نور اچولی دی، دغه خو هم دغه شیان دی چه دوی د هغه وجود په دیر خوشی او فخر د خپلو ځانونو دپاره ثابت کری وو:

﴿ وَقَالُوا قُلُوبُنَا فِي أَكِنَّةٍ مِّمَّا تَدْعُونَا إِلَيْهِ وَفِي آذَانِنَا وَقْرٌ وَمِن بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ فَاعْمَلْ إِنَّنَا عَامِلُونَ ﴾

« (۲٤) جزء د حٰم السجده آیت (٥) (۱) رکوع» پر آخرت ایمان نه لرل او له انعام ځخه بی فکره کیدل د الله تعالیٰ له ذکره تښتیدل پر انبیاؤ الله تمسخر او ملنډی وهل هغه شیان دی چه د «حجاب» ، «کنان» او «وقر» صورت اختیاروی او هر کله چه د هر شی خالق الله تعالیٰ دی، نو ځکه د هغوی د خلقت نسبت هم رب العزت ته کاوه شی.

﴿ وَإِذَا ذَكَرْتَ ﴾ الآیة - او کله چه یاد کری ته رب خپل په قرآن کښی یواځی په توحید سره بی له یادولو د باطلو معبودانو د دوی نو بیرته ګرځی دوی په شاؤ خپلو په دی حال کښی چه ترهیدونکی وی له اوریدلو د توحید نه) یعنی د الله تعالیٰ له ذکره ترهیږی او تور ورځخه خوری او شا تری آړوی او تښتی، هو! که د دوی د معبودانو تذکره وشی، نو دیر خوشالیږی

﴿ وَإِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَحْدَهُ اشْمَأَزَّتْ قُلُوبُ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ وَإِذَا ذُكِرَ الَّذِينَ مِن دُونِهِ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُونَ ﴾

(۲٤ جزء د الزمر (٤٥) آیة (٥) رکوع).

---

## نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَسْتَمِعُونَ بِهِ إِذْ يَسْتَمِعُونَ إِلَيْكَ وَإِذْ هُمْ نَجْوَىٰ إِذْ يَقُولُ الظَّالِمُونَ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَّسْحُورًا ﴿٤٧﴾

---

مونږ ښه عالم یو په هغه غرض چه اوری دوی په سبب د هغه سره(دا قرآن چه استهزاءده ) کله چه غوږ ږدی دوی تاته او کله چه دوی مشوری (پټی خبری) کوی کله چه وائی ظالمان (مشرکان اصحابو ته) چه متابعت نه کوئ تاسی (ای مسلمانانو) مګر د یوه سړی چه جادو پری شوی وی.

---

**تفسیر :** یعنی د دی پاک قرآن له آوریدلو ځخه د دغو کفارو مقصود استفاده نه وی بلکه محض استخفاف او استهزاء ئی مطلوب وی. دوی پاک قرآن او ستاسی خبری ئی واوریدی او بیرته لاړل، او پخپلو منځونو کښی ئی مشوری وکری چه د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په نسبت څه شی ښائی ووایو؟ بالاخر دا ئی سره غوته کره چه پر دغه سړی جادو شوی دی، یعنی د جادو په اثر لیونی شوی دی او دماغ ئی له سره په ځای نه دی (العیاذ بالله العظیم) ځینی دلته له «مسحور» ځنی د «ساحر» معنی اخیستی ده یعنی ګواکی د ده په خبرو کښی د جادو (کوډی) اثر شته.

**تنبیه :** د «مسحور» له لفظ ځخه کوم مطلب چه دوی اخیستی د هغه له نفی ځخه دغه نه

لازمیږی چه پر نبی علیه السلام باندی به هیڅ قسم سحر په هیڅ یوه درجه په عارضی دول (طریقه) هم اثر نشی اچولی. دغه آیت مکی دی او په مدینی منوری کښی زمونږ پر رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی د یهودانو د کودی کولو د واقعی ذکر په «صحاح» کښی شته چه د هغو اثر تر څو ورځو پوری یواځی دومره قدر لیده کیده چه په ځینو دنیوی کارونو کښی کله ناکله د هیری (ذهول) آثار ښکاریده.

انْظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوا لَكَ الْأَمْثَالَ فَضَلُّوا فَلَا يَسْتَطِيعُونَ سَبِيلًا ﴿۴۸﴾

وګوره (ای محمده!) څرنګه بیانوی دغه کفار تا لره مثالونه (مثلونه د ساحر، شاعر، کاهن مجنون) نو ګمراه شول دوی نو طاقت نه لری دوی د سمی لیاری موندلو.

**تفسیر :** یعنی کفارو به څمونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته کله شاعر ویل کله به ساحر کله به کاهن، کله به مسحور یا مجنون، الغرض هرزه برزه (فضول) خبری به ئی کولی او پر هیڅ یوه خبره به تینګ نه وو ولاړ، هر وقت چه به خبره د دوی په خوله کښی ورتله همغه به ئی ویله، حقیقت دا دی چه سره له جداوجهده، د طعن او تشنیع داسی کومه لیاره دوی نشوه موندلی چه د هغه په وسیله د خپل اغواء او اضلال په مقصد کښی بریالی (کامران) او کامیاب شی.

وَقَالُوا أَإِذَا كُنَّا عِظَامًا وَرُفَاتًا أَإِنَّا لَمَبْعُوثُونَ خَلْقًا جَدِيدًا ﴿۴۹﴾

او وائی دغه (منکران) آیا کله چه شو مونږ (پس له مرګه) هدوکی او خاوری میده شوی آیا په تحقیق به مونږ خامخا بیا راولاړ (او ژوندی) کړی شو په پیدا کولو نوی سره.

**تفسیر :** یعنی پر تاسی د مسحور او مجنون یا شاعر او کاهن د مثالونو لګول خو هرومرو (خامخا) تعجب راوړونکی دی خو له هغه څخه لا زیات د تعجب وړ (لائق) هغه دلیل دی چه (معاذ الله) د مسحور او مجنون ثابتولو دپاره دوی وړاندی کول چه د هغه خلاصه دا ده چه له مرګه وروسته مونږ ګورو چه د انسان بدن ورستیږی او تک سپین هدوکی تری پاتی کیږی چه لږ موده وروسته هغه هدوکی هم رژیږی او ذری ذری شی او له خاورو سره ګدودیږی آیا کوم هوښیار

او پوه سړی داسی کوم تجویز کولی شي چه دغه هډوکی د وړو او د خاورو بخرکی به بیا سره راټولیږی او انسانی حیات به په دغه منتشره ذراتو کښی بیا راځی. که دغه نبی د داسی ناممکنی خبری اخبار ورکوی نو ثابتیږی چه (العیاذ بالله) د ده دماغی صحت په حال نه دی.

قُلْ كُونُوا حِجَارَةً أَوْ حَدِيدًا ۝ أَوْ خَلْقًا مِّمَّا يَكْبُرُ فِي صُدُورِكُمْ ۚ فَسَيَقُولُونَ مَن يُعِيدُنَا ۖ قُلِ الَّذِي فَطَرَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ ۚ فَسَيُنْغِضُونَ إِلَيْكَ رُءُوسَهُمْ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هُوَ ۖ قُلْ عَسَىٰ أَن يَكُونَ قَرِيبًا ۝٥١

ووایه (ای محمده ! دوی ته) شئ تاسی تیږی( ګټی) یا اوسپنه، یا بل کوم قسم مخلوق له هغه قسمه چه ډیر لوی (او سخت) ښکاری په سینو (زړونو) ستاسی کښی (قبلول د هغی حیات لره نو سره له هغه به هم بیا تاسی ژوندی کوو)، نو ژر به ووائی دوی څوک به بیرته راولی مونږ (او ژوندی به مو کړی پس له مرګه)، ووایه (ای محمده !) هغه (ذات به تاسی بیا ژوندی کړی) چه پیدا کړی ئی یئ تاسی اول کرت، نو ژر به وخوځوی دوی تاته سرونه خپل (له ډار استهزا۔ او تعجبه) او وبه وائی دوی (تمسخراً) کله به وی دغه (بیا ژوندون)، نو ووایه (ای محمده ! دوی ته) ښائی چه وی دغه (بیا ژوندون) نژدی (څکه چه راتلونکی دی).

**تفسیر :** یعنی دغه دوړی او د خاورو بخرکی خو په هر حال د هغه انسانی لاش آثار دی چه پخوا له دی نه ژوندی ؤ او پخپله د خاورو په ذراتو کښی د حیات آثار پیدا کیدل دومره لری او مستبعد نه دی زه تاسی ته اجازه درکوم چه د هډوکو دوړی نه، بلکه که ستاسی له لاسه پوره وی تیږی (ګټی) یا اوسپنی وګرځئ، چه د حیات د آثارو له قبلولو څخه بالکل محروم ښکاره شئ، یا کوم بل یو سخت شی جوړ شئ! او تجربه وکړئ! چه د هغوی ژوندی کیدل له اوسپنی او تیږی (ګټی) څخه هم زیات مشکل او سخت په نظر درځی تر دی چه بیخی مجسم موت وګرځئ، خو سره له هغه هم دغه قادر مطلق جل جلاله ته ستاسی بیا ژوندی کول ډیر سهل او آسان کار دی.

﴿ فَسَيَقُولُونَ ﴾ الآية ۔ نو ژر به ووائی څوک به بیرته راولی مونږ او ژوندی به مو کړی پس له مرګه ووایه ای محمده دوی ته هغه ذات به تاسی بیا ژوندی کړی چه پیدا کړی ئی یئ تاسی اول کرت) یعنی هغه ذات چه ړومبی ئی تاسی له خاورو یا له نطفی څخه پیدا کړئ ، او لا یعقل جماد ئی په انسانی روح سره فائض کړی دی، آیا اوس په هغه کښی قدرت نه دی پاتی چه د

خاوری ذرات او د مړی د لاش اجزاء راجمع کړی او بیا ژوندون ورعنایت کړی؟.
﴿ فَسَيُنْغِضُونَ ﴾ الآیة - نو ژر به وخوځوی دوی تاته سرونه خپل له ډیر استهزاء او تعجبه او وبه وائی دوی تمسخراً کله به وی دغه بیا ژوندون) یعنی له استهزاء او تمسخر څخه خپل سرونه خوځوی او وایی هو! صاحبه په وراسته‌ؤ هډوکو او د خاورو په ذرو کښی به کله روح وپوکلی شی؟ او کله به مړی له خپلو هدیرو (قبرونو) څخه راپورته کیږی د حساب او کتاب دپاره؟.
﴿ قُلْ عَسَىٰ ﴾ الآیة - نو ووایه ای محمده! دوی ته شائی چه وی دغه بیا ژوندون نژدی ځکه چه راتلونکی دی.) یعنی د قیامت پوره او برابر وقت الله تعالیٰ هیچا ته نه دی ښوولی، هو! د هغه د راتللو امید په قریب مستقبل کښی تاسی ته ظاهرولی شو ګواکی د دنیا پاتی عمر له هغه څخه لږ دی چه تر اوسه پوری تیر شوی دی.

---

يَوْمَ يَدْعُوكُمْ فَتَسْتَجِيبُونَ بِحَمْدِهِ

---

په هغه ورځ کښی چه وبولی (الله) تاسی حساب ته نو قبول به کړئ ( بلنه د ده په فعلی قبول سره ) په دی حال کښی چه ثنا ویونکی به یئ الله ته.

---

**تفسیر :** یعنی څه مهال (وخت) چه د الله تعالیٰ له طرفه غږ راپورته شی، نو په یوه زوروره بلنه او چغه سره به ټول مړی له ځمکی څخه راوځی او د حشر په میدان کښی به سره راټولیږی، هیڅوک به د غاړی غړولو توان ونه لری، هر انسان به په دغه وخت کښی مطیع او منقاد کیږی او د الله حمد او ثناء به وایی او په ټلوار سره به حاضریږی اګر که کفارو ته له دغه اضطراری حمد او ثناء څخه کومه فایده نه ور رسیږی. په ځینو روایاتو کښی راغلی دی چه د مومنینو پر ژبو به دغه الفاظ وی (الحمد لله الذی اذهب عنا الحزن).

---

وَتَظُنُّونَ إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٥٢﴾

---

او ګمان به کوئ (له ډیر هیبته) چه ځنډ (تاخیر) نه دی کړی تاسی مګر لږ شانی (په دنیا یا قبر کښی).

---

**تفسیر :** یعنی اوس ټلوار کوئ خو په دغه وقت کښی به اندازه وکړئ، چه په دنیا کښی مو څه زیات ځنډ (تاخیر) نه دی کړی دغه پنځوس یا سل کاله عمر به د هغو زرګونو کلونو په مقابل کښی څه معلومیږی (موضح القران) ځینی وائی چه د هولو او خوفونو له شدته به د دنیا ژوندون دوی ته لږ ښکاری یا له اولی نفخی څخه تر دوهمی نفخی پوری کله چه عذاب نه وی نو دغه منځنی مدت به لږ ګڼی او داسی به وایی: «من بعثنا من مرقدنا» د یٰسین شریف (٤) رکوع).

وَقُل لِّعِبَادِي يَقُولُوا الَّتِي هِيَ أَحْسَنُ ۚ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَنزَغُ بَيْنَهُمْ ۚ إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلْإِنسَانِ عَدُوًّا مُّبِينًا ﴿٥٣﴾

او ووایه (ای محمده!) (مؤمنانو) بندګانو ځما ته چه وائی دی (مشرکانو ته) هغه خبری چه هغه ډیر غوره دی، بیشکه چه شیطان دښمنی اچوی (او شر پورته کوی) په منځ د دوی کښی، بیشکه چه شیطان دی دپاره د انسان دښمن ښکاره (چه له سره په نیکی ئی روادار نه دی).

**تفسیر**: د مشرکانو د جهالت او د طعنو او مسخرو له اوریدلو څخه ممکن ؤ چه کوم مسلمان د نصیحت او د پوهولو په وقت کښی زړه تنګی یا قهرجن شی او په تشدد باندی لاس پوری کړی نو ځکه مسلمانانو ته ئی نصیحت وفرمایه چه په مذاکرو او خبرو او اترو کښی سخته زړه خوږوونکی او اشتعال اچوونکی طریقه مه اختیاروئ! ځکه چه له هغی څخه د ګټی (فائدی) په ځای نقصان در رسیږی. شیطان تل بل خوک لمسوی او له لیاری ئی وباسی او په جنګ کښی ئی اچوی بیا د مخاطب په زړه کښی له دغه تشدده داسی ضد او عداوت قائمیږی چه که ئی وپوهوی بیا هم ځان نه پوهوی.

رَّبُّكُمْ أَعْلَمُ بِكُمْ ۖ إِن يَشَأْ يَرْحَمْكُمْ أَوْ إِن يَشَأْ يُعَذِّبْكُمْ ۚ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ وَكِيلًا ﴿٥٤﴾

رب ستاسی ښه عالم خبردار دی پر تاسی، که اراده وفرمائی (د رحمت ستاسی) نو رحمت به وکړی پر تاسی ( په عطاء د ایمان او قبول د توبی) یا که اراده وفرمائی (د عذابولو د تاسی) نو عذاب به درکړی تاسی ته (په کفر او عصیان سره)، او نه ئی لیږلی مونږ ته پر دوی وکیل (ذمه وار).

**تفسیر**: یعنی رحم به وکړی پر تاسی د ایمان په توفیق ورکولو سره یا به مو په عذاب کړی د کفر په حالت باندی په مړ کولو سره. حضرت شاه صاحب لیکی: «په مذاکراتو کښی حق والا سری قهرجن کیږی کله چه وګوری بالمقابل سړی هغه حق نه منی نو ځکه ئی وفرمایل چه ته د هغه د هدایت ذمه وار نه ئی الله ښه پوهیږی د هر چا په نسبت چه اراده وفرمائی لیاره به ورته ښیی.»

وَرَبُّكَ اَعْلَمُ بِمَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِؕ وَلَقَدْ فَضَّلْنَا بَعْضَ النَّبِيّٖنَ عَلٰى بَعْضٍ وَّاٰتَيْنَا دَاوٗدَ زَبُوْرًا ۝۵۵

او رب ستا ښه عالم دی په هغه چا چه په آسمانونو کښی دی او چه په ځمکه کښی دی (له علویاتو او سفلیاتو)، او خامخا په تحقیق فضیلت ورکړی دی مونږ ځینو انبیاؤ ته پر ځینو (نورو) او ورکړی ؤ مونږ داؤد ته زبور.

**تفسیر :** یعنی مونږ سم له خپل محیط علم سره له هر چا سره معامله کوو هر یو سری مو چه مناسب وګانه د بنیآدمانو له منځه هغه ته مو نبوت ورکړ. حضرت شاه صاحب لیکی: «یعنی ځینی نبیان داسی ؤ چه (د خپل امت له زیات شرارت څخه بالاخر) په قهر شول ستا حوصله مو له هغو څخه زیاته کړی ده (او پر ګردو (تولو) مو فضیلت درکړی دی) لهٰذا ښائی ستاسی دغه ښه اخلاق له خپلی عالی مرتبی سره موافق وی» او په خصوصیت سره د داؤد علیه السلام ذکر ئی وکړ ځکه چه هغه دغه دواړه شیان د پوهولو دپاره درلودل (لرل) جهاد هم او زبور هم (وفی الحدیث کان لا یفراذالاقی) همغه دواړه خبری دلته هم شته قرآن او جهاد. ځینی وائی چه دلته ئی د (زبور) ذکر کړی د محمد صلی الله علیه وسلم کلیه فضیلت او د محمدیه امت د فضل او شرف په لوری ئی اشاره فرمایلی ده ځکه چه د زبور مضامین د محمد صلی الله علیه وسلم پر خاتم الانبیاء توب او د ده د امت پر اشرف الامم توب مشتمل ؤ ﴿وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُوْرِ مِنْ بَعْدِ الذِّكْرِ اَنَّ الْاَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصّٰلِحُوْنَ﴾ ۱۷ جزء د الانبیاء (۱۰۵) آیة ۷ رکوع) یعنی د محمد صلی الله علیه وعلی آله و صحبه وسلم مرحومه امت.

قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ فَلَا يَمْلِكُوْنَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنْكُمْ وَلَا تَحْوِيْلًا ۝۵۶

ووایه (ای محمده ! دوی ته) چه وبولئ تاسی هغه معبودان چه ګمان پری کوئ (د خدایانو) بی له الله څخه نو نه لری دوی اختیار د لری کولو د ضرر له تاسی څخه او نه د ګرځولو (د ضرر بل چا ته).

**تفسیر :** یعنی الله تعالیٰ خو هغه ذات دی چه هر چاته چه اراده وفرمائی عذاب ورکوی او په هر چا چه اراده وفرمائی مهربانی پری کوی په هر چا چه هغومره اراده وفرمائی هغومره پر نورو ورته

فضیلت عطاء کوی، د هغه قدرت کامل او علم ئی محیط دی. اوس دی مشرکان هغو خپلو معبودانو ته ناری کړی چه دوی ئی خپل خدایان ګنی، یا ئی جوړ کړی وی. آیا په هغوی کښی یو هم داسی مستقل اختیار لری چه لږ څه تکلیف له تاسی څخه لری کړی شی یا ئی لږ څه سپک کړی یا ئی له تاسی څخه لری او په بل چا ئی وغورځوی؟ نو بیا د داسی ضعیف او عاجز مخلوق معبود درول په څرنګه روا وی.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُ ۚ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُورًا ﴿٥٧﴾

دغه (معبودان) هغه دی چه عبادت (ئی) کوی کفار لټوی دغه (کفار) طرف د رب خپل ته وسیله (د نژدی والی) چه کوم یو له دوی څخه ډیر نژدی دی الله ته او امید لری د رحمت د دغه (الله) او ویریږی دوی له عذابه د دغه (الله نو څنګه ئی بولئ خدایان)، بیشکه عذاب د رب ستا (وړ او لائق ددی) دی چه ویره تری وکړی شی (تل ترتله).

**تفسیر :** په «بخاری شریف» کښی روایت دی چه څه خلقو د جاهلیت په زمانه کښی د پیریانو عبادت کاوه هغه پیریان خو مسلمانان شول لیکن د هغوی عابدین همغسی پخپل جهالت کښی قائم پاتی ؤ نو د هغوی په حق کښی دغه آیت نازل شو. ځینی وائی د پیریانو او د پرښتو او د مسیح او د عزیر او د نورو ګردو (ټولو) عابدین په دغه کښی شامل دی مطلب ئی دا دی هغه موجودات چه تاسی خپل معبودان او مستعانان ګڼئ او بولئ ئی هغوی پخپله خپل د رب د تقرب په فکر کښی ډیر زیات لویدلی دی او لټوی ئی، د هغوی زیار (محنت) او کوښښ په هم دی کښی دی چه د الله تعالیٰ د قربت په حاصلولو کښی کوم یو وړاندی او د مخه کیږی؟ د هغوی له منځه هر یو چه زیات مقرب وی همغه زیات د الله تعالیٰ د قرب د حاصلولو طالب دی. او په دغه فکر او چرت (خیال) کښی دی چه د کوم بل زیات مقرب مخلوق وسیله ځان ته پیدا کړم څو د هغه په دعاء او د نورو په ذریعه د تقرب الی الله لوړو درجو ته ځان ورسوم. نو کله چه ستاسی د دغو مجوزهؤ معبودانو حال د الله تعالیٰ په مقابل کښی داسی وی. نو تاسی له خپلو ځانونو سره د دغی خبری فیصله وکړئ چه د الله تعالیٰ خوښی او د ده د رضاء حصول تر کوم ځای پوری ضروری دی، او د غیر الله عبادته نه الله تعالیٰ خوښیږی او نه هغه خوشالیږی چه تاسی ئی عبادت کوئ او خوښی ئی غواړئ.

**تنبیه :** د (توسل) او د (تعبد) په منځ کښی فرق ظاهر دی بیا نو (توسل) هم تر هغه ځای پوری مشروع دی چه د شریعت له لوری مجاز دی.

﴿ وَيَرْجُوْنَ رَحْمَتَهٗ ﴾ الآية ـ او امید لری د رحمت د دغه الله او ویریږی دوی له عذابه د دغه الله الخ) یعنی سره له انتهائی قرب د هغوی گرد (تول) امیدونه محض د الله تعالیٰ پر لطف او مهربانی دی. او دوی تل تر تله د الله تعالیٰ له عذابه ویریږی او لرزیږی او په دی ښه پوهیږی چه د هر قسم نفع رسونه او د ضرر دفعه د همغه پاک الله په قبضه او اختیار کښی دی.

وَاِنْ مِّنْ قَرْيَةٍ اِلَّا نَحْنُ مُهْلِكُوْهَا قَبْلَ يَوْمِ الْقِيٰمَةِ اَوْ مُعَذِّبُوْهَا عَذَابًا شَدِيْدًا ؕ

او نشته هیڅ کلی (یا ښار د ځمکی په مخ کښی) مگر چه مونږ هلاک کوونکی (مړه کوونکی د اهل) د هغه یو پخوا له ورځی د قیامت یا په عذابو ونکی یو (د اهل) د هغه په عذاب سخت سره ،

**تفسیر :** د دغه آیت مطلب په څو دوله (قسمه) اخستی شی:

(الف) : د دنیا هر یو کلی او ښار د هغوی د وسیدونکو د عظیم الشانو گناهونو په بدل پخوا له قیامته مستأصلو عذابونو بیخی تباه او خرابوه شی که د دوی گناه انتهائی درجی پوری نه وی رسیدلی نو د دوهمی درجی د جرائمو په سزا کښی د عمومی هلاکت څخه ښکته بل کوم سخت آفت پر هغه نازلاوه شی باقی داسی کلی او ښار به چیری وی چه له ازله تر ابده پوری به ئی گناه نه وی کړی؟ او نه په کوم آفت کښی به اخته شوی وی؟.

(ب) : پخوا له قیامته ضروری ده چه هر یو کلی او ښار ته د هغه طبیعی موت ورولیږلی شی او وران کړی شی، یا په کوم آفت او بلاء کښی مبتلاء شی. پر هغه طبیعی موت چه د تعذیب له رنگه تش وی د (هلاک) د لفظ اطلاق له قرآنه او حدیثه ثابت دی ﴿ حَتّٰۤى اِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ مِنْۢ بَعْدِهٖ رَسُوْلًا ﴾ (۲٤ جز د المومن ۳٤ آیة ٤ رکوع) وفی الحدیث (کلما هلک نبی جاء نبی آخر).

(ج) : د کفارو کلی او ښارونه یا پخوا له قیامته پخپلو درنو گناهونو په بدل نابود او لری کاوه شی یا به په کوم نه کوم بل وقت کښی (یعنی پخوا یا وروسته له قیامته) د سختو عذابونو خوند وڅکی.

په هر حال هره معنی چه تری واخیسته شی له دغه آیت څخه مقصود تحذیر دی گواکی هغه ئی چه پخوا فرمایلی ؤ ﴿ اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُوْرًا ﴾ دلته د هغه د وقوع خبر ورکړی شوی دی.

كَانَ ذٰلِكَ فِى الْكِتٰبِ مَسْطُوْرًا ﴿۵۸﴾

دی دغه حکم په کتاب (لوح محفوظ) کښې لیکلی شوی.

**تفسیر :** یعنې دغه فیصله بیخی حتمی او قطعی ده چه د الله تعالیٰ په علم کښې طی شوی ده او په لوح محفوظ کښې لیکلی شوی ده او هیڅ یو طاقت د هغه مخه نشی نیولی. حضرت شاه صاحب لیکی «د هر ښار خلق د یو مشر خدمت کوی چه مونږ د هغه رعیت او په پناه کښې یو خو کله چه وقت راشی هیڅوک به هیچا ته پناه نشی ورکولی ﴿لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ أَمْرِ اللَّهِ إِلَّا مَن رَّحِمَ﴾

وَمَا مَنَعَنَآ أَن نُّرْسِلَ بِالْاٰيٰتِ اِلَّآ اَنْ كَذَّبَ بِهَا الْاَوَّلُوْنَ ؕ

او نه دی منع کړی مونږ لره هیڅ څیز له دی نه چه ولیږو هغه معجزی (چه دوی ئی غواړی) مګر (دی خبری) چه تکذیب کړی وو په هغو معجزو پخوانیو (کفارو نو هلاک مو کړل)،

**تفسیر :** په حدیث کښې دی چه د مکی معظمی خلقو څمونږ له رسول الله څخه معجزی وغوښتی مثلاً دغه چه د (صفا) غر راته سره زر کړه! یا دغه غرونه څمونږ له شاؤ څخه لری کړه! او د زراعت قابله سمه هواره ځمکه تری سازه کړه! وغیر ذالک ، که داسی دی وکړه نو مونږ ستا دغه خبری منو. د دوی په جواب کښې دغه آیت نازل شو یعنی د دغی فرمائشی معجزو ښوول الله تعالیٰ ته له سره مشکل نه دی. لیکن پخوانیو خلقو ته سره له دی چه سم د هغو له غوښتنو سره د قدرت هسی معجزی ورښوولی وی خو هغوی نه یوائځی ایمان رانه وړ، بلکه په سرکښئ کښې ئی لا پسی ترقی وکړه آخر له سنت الله سره موافق د هغه نتیجه داسی شوه چه هغوی بیخی سره مستاصل او فناه او په هلاک ورسیدل. اوس که ستاسی دغه غوښتنی هم پوره کړی شی نو د الله تعالیٰ په علم کښې شته، بلکه ستاسی له احوالو هم ظاهریږی چه تاسی بیا هم منونکی نه یئ، نو له سنت الله سره سم د دی نتیجه هم ښائی هم هغه استیصال او کلی اهلاک وی چه هغه د دوی په حق کښې خلاف له مصلحت او حکمت دی ځکه د الله تعالیٰ اراده د دغه آخری امت په نسبت داسی نه ده چه د تیرو اقوامو او اممو پشان پر دوی هم مستاصل عذاب ولیږلی شی او بیخی تباه کړل شی. پخوانیو امتونو ته د فرمائشی معجزو ښوول پر دغه بناء جائز اینبی شوی ؤ چه د هغوی بالکلیه تباهی د الله تعالیٰ په نزد دومره د التفات وړ (لائق) نه وه او د وروستنیو راتلونکو امتونو دپاره د دوی څه نمونی ورښوول مقصود ؤ چه دوی وپوهیږی چه د فرمائشی معجزو غوښتلو نتیجه او احوال همغسی کیږی لکه چه په دغه آیت کښې د همغو تاریخی نظائرو په طرف اجمالی اشاره فرمایلی شوی ده چه که د دغو فرمائشی معجزو له لیدلو څخه وروسته تکذیب مو وکړ (او بالیقین ئی کوئ) نو کوم حال چه د پخوانیو شوی دی همغه به ستاسی هم

وشی، لیکن د الله تعالیٰ حکمت د دی مقتضی نه دی چه تاسی هم د هغوی پشان هلاک کړی نو ځکه د فرمائشی معجزو لیږل موقوف کړی شوی دی.

وَاٰتَيْنَا ثَمُوْدَ النَّاقَةَ مُبْصِرَةً فَظَلَمُوْا بِهَا ۭ

او ورکړی مو وه (قوم) د ثمود ته اوښه ښکاره معجزه نو ظلم وکړ (ثمودیانو په ځانونو خپلو) په سبب د (عطش او عقر او اهلاک د) هغی،

**تفسیر :** د (ثمود) قوم له حضرت صالح علیه السلام څخه غوښتنه کړی وه چه د دغه غره له هغی غتی تیږی (ګټی) څخه یوه اوښه راوباسه. پاک الله هغه اوښه ئی له هغی پرښی (ګټی) څخه ورویسته مګر د دی په ځای چه هغوی د داسی فرمائشی معجزی له لیدلو څخه خپلی سترګی غړولی وی او قلبی بصیرت ئی حاصل کړی وی بالعکس د ظلم او عداوت لپاره ئی ملاوی وتړلی لکه چه هغه اوښه ئی ووژله او د حضرت صالح علیه السلام د شهادت په فکر او توتیه (غور) کښی هم سره سم بوخت (مشغول) شول بالاخر د هغوی عاقبت او انجام څرنګه چه واقع شو هغه ګردو (تولو) ته ښکاره او معلوم دی او د هغه د بیانولو ضرورت نه دی پاتی دغه ئی د (ان کذب بها الاولون) یوه نمونه وروړاندی کړه.

وَمَا نُرْسِلُ بِالْاٰيٰتِ اِلَّا تَخْوِيْفًا ﴿۵۹﴾

او نه لیږو مونږ (دغه فرمائشی) معجزی مګر دپاره د ویرولو.

**تفسیر :** یعنی هدایت د معجزاتو پر لیدلو موقوف نه دی، د فوق العادهٔ معجزاتو د لیږلو څخه دغه مقصود وی چه د قاهرهٔ قدرت له لیدلو څخه خلق د الله تعالیٰ څخه وویریږی او له ویری د پاک الله په طرف متمائل شی. که دغه مقصود حاصل نشی او فی الحال د هغه قوم تباه کول هم مصلحت نه وی نو د تشو فرمائشونو د پوره کولو څخه څه فائده لاس ته راځی باقی د عمومی تخویف او انذار دپاره د هغو آیاتونو او معجزاتو لیږل چه مصلحت دی هغه برابر لیږلی شوی دی.

وَاِذْ قُلْنَا لَكَ اِنَّ رَبَّكَ اَحَاطَ بِالنَّاسِ ۭ

او (یاد کړه) هغه وقت چه وویل مونږ تاته چه بیشکه رب ستا احاطه کړی ده پر مخلوقاتو (په علم او قدرت خپل سره)

**تفسیر :** ښائی چه د رسول الله مبارک په خیال کښی دغی خبری خطور کړی وی چه د دغو فرمائشی معجزاتو د نه ښودلو څخه به کفارو ته د خندا او طعن موقع په لاس ورشی او داسی به وائی که دی په رښتیا سره نبی وی نو ځمونږ له غوښتنی سره به ئی سم معجزی راښودلی وی نو ځکه ئی مطمئن کړل چه ستا د رب علم او قدرت ګرد (تول) خلق احاطه او راګیر کړی دی او هیڅوک د ده له علم څخه د باندی وتلی نشی. او نه د ده د قدرت له ماتحت بل چیری خوځیدی شی او ګرد (تول) د ده په واک (اختیار) او قبضه کښی دی تاسی د دوی د دغو طعنو او تشنیعو ته له سره غوږ مه ږدئ او مه التفات ورته کوئ! دوی ستاسی هیڅ یو شی نشی خرابولی تاسی په خپل کار کښی مشغول او لګیا اوسئ! او د دوی فیصلی بیخی مونږ ته راپریږدئ مونږ ته دیر ښه معلوم دی چه دوی سره د فرمائشی معجزو د لیدلو هم ستاسی د خبرو منونکی نه دی او وروسته له هغه ځمونږ له سزا او پوښتنی څخه خلاصیدونکی یا تری چیری تښتیدونکی نه دی او په دی هم علم لرو چه له دغو خلقو څخه کوم یو اوس سم د لاسه د تباه کیدلو وړ (لائق) دی؟ او د کومو خلقو باقی پریښودل مصلحت دی؟ لهٰذا تاسی خپل ځان په دغو جګړو او جنجالونو کښی له سره مه اخته کوئ! دغه ګرد (تول) ځمونږ تر محاصری لاندی دی بالاخر دوی به مسلمانیږی.

---

**وَمَا جَعَلْنَا الرُّءْيَا الَّتِيْٓ اَرَيْنٰكَ اِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ**

---

او نه ده ګرځولی مونږ (نظاره ښوونه) هغه چه ښوولی مو وه تاته (د کائناتو په نسبت په سترګو سره په شپه د معراج کښی) مګر ازموینه دپاره د خلقو د (مکی).

---

**تفسیر:** له نظاری څخه مراد د معراج د شپی هغه ننداری دی چه د هغو په بیان سره د خلقو ازموینه وشوه صادقانو د هغو له آوریدلو څخه پری باور وکړ او وئی منل او بالعکس مکذبینو او ناقصانو د هغو تکذیب وکړ.

---

**وَ الشَّجَرَةَ الْمَلْعُوْنَةَ فِي الْقُرْاٰنِ ط**

---

او (هم دا رنګه فتنه ګرځولی ده مونږ) هغه ونه چه پری لعنت کړی شوی دی په قرآن کښی،

---

**تفسیر :** یعنی د (زقوم ونه) چه په قرآن کښی ویلی شوی ده چه هغه به د دوزخیانو خوراک وی د ایمان لرونکو د یقین موجب شوه او د منکرانو د شک او ریب سبب وګرځیده او وی ویل

چه د دوزخ په اور کښې به ونه څرنګه زرغونیږی؟ دغه هم (لکه همغه د معراج ننداره) یوه ازموینه وه. له دغو دواړو مثالونو څخه اندازه وکړئ چه د خوراقو په تصدیق کښې د طبائعو احوال څرنګه دی؟.

وَنُخَوِّفُهُمْ فَمَا يَزِيدُهُمْ إِلَّا طُغْيَانًا كَبِيرًا ﴿٦٠﴾

او ویروو مونږ دوی نو نه زیاتوی دوی ته (دغه ویرول) مګر طغیان سرکښې لویه.

**تفسیر :** یعنی هغه زړونه چه د الله تعالیٰ له ویری څخه تش وی له ویرولو څخه هم نه ویریږی بلکه لا زیات پخپلو شرارتونو کښې پرمخ تګ او ترقی کوی. له هغوی څخه د فرمائشی معجزاتو په لیدلو سره د حق د قبلولو هیله (توقع) او امید لرل، چتی (بیکاره) او بی موقعه دی.

وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ قَالَ أَأَسْجُدُ لِمَنْ خَلَقْتَ طِينًا ﴿٦١﴾

او (یاد کړه) هغه وقت چه وویل مونږ پرښتو ته چه سجده وکړئ تاسی آدم ته (تعظیماً) نو سجده وکړه (ټولو) مګر یواځې ابلیس (چه سجده ئې ونه کړه)، وویل (ابلیس په جواب د الله کښې) آیا سجده وکړم هغه چاته چه پیدا کړی دی تا له ختی،

**تفسیر :** دغه قصه په څو ځایونو کښې تیره شوی ده دلته په هغی باندی تنبیه ورکول مقصود دی چه د الله تعالیٰ د حکم بی له وړاندی وروسته کولو څخه منل (د پرښتو له طرفه) او په هغه کښې شبهې پیدا کول د شیطان کار دی. دغه کفار هم د همغه شیطان د اعمالو متابعت کوی چه په خبرو کښې ئې کاره بحثونه کول مګر په یاد ئې ولرئ چه د دوی عاقبت او انجام هم همغسی کیدونکی دی چه د دوی د امام او مشر لعین ابلیس انجام هم همغسی کیدونکی دی.

قَالَ أَرَأَيْتَكَ هَٰذَا الَّذِي كَرَّمْتَ عَلَيَّ لَئِنْ أَخَّرْتَنِ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَأَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهُ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٦٢﴾

وویل (ابلیس) خبر راکړه ماته دا (سړی) چه بهتر کړی دی دی په ما باندی قسم دی که وروستی دی کړم تر ورځی د قیامت پوری نو خامخا به زه بیخ وباسم هرومرو (خامخا) د اولادی د ده مګر لږ (د دوی چه ستا په عصمت او حمایت کښی دی).

**تفسير** : یعنی لږ څه به ئی پریږدم او باقی ګرد (تول) به ئی مسخر او د خپل ځان تابع وګرځوم. لکه چه پر آس د ملونی او قیزی په وسیله سړی لاس مومی نو بیا دغه انسانان چه ځما په مقابل کښی دومره ضعیف او کمزوری دی نو تا دوی ته پر ما ولی لوئی او فضیلت ښنلی دی؟ آیا داسی کول هم جائز دی؟ حال دا چه زه غوره یم له ده نه ځکه چه آدم له خاوری پیدا دی او زه له اوره.

قَالَ اذْهَبْ فَمَنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ فَإِنَّ جَهَنَّمَ جَزَآؤُكُمْ جَزَآءً مَّوْفُورًا ﴿٦٣﴾

(نو) وفرمایل (الله) چه ځه نو هر چا چه متابعت وکړ د تا له دوی نه (ای شیطانه) نو بیشکه دوزخ جزاء ستاسی ده جزاء پوره .

**تفسير** : یعنی هومره زور چه لګولی شی وئی لګوه دلته تاته او ستا ملګرو ته بندی خانی تیاری دی.

وَاسْتَفْزِزْ مَنِ اسْتَطَعْتَ مِنْهُمْ بِصَوْتِكَ

او وخوځوه (راګیر کړه) هغه څوک چه طاقت دی رسیږی پر هغه باندی له دوی نه په غږ (بلنه) خپله سره (فساد ته)

**تفسير** : یعنی هغه غږ چه د الله تعالیٰ د عصیان په لوری خلقو ته دعوت او بلنه کوی. له دی نه په زړونو کښی وسوسی غورځول مراد دی. مزامیر (ساز او آواز) هم په دی کښی داخلیدی شی.

وَأَجْلِبْ عَلَيْهِمْ بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ

او راکاږه (راتول کړه ګمراهی ته) پر دوی سواره خپل او پیاده خپل.

**تفسیر :** یعنی خپل گرد (تول) زور او قوت ولگوه او په پوره قدرت او طاقت سره خپلو لښکرو ته د پرمخ تگ (وراندی تلو) امر ورکړه چه د الله تعالیٰ په معصیت کښې گرد (تول) جنگیدونکی شیطانان دی که سواره دی یا پلی(پیاده) ، جنی وی، که انسی، پخپلو شیطانی چارو بوخت (مشغول) او لگیا شی!؟.

وَشَارِكْهُمْ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ

او شریک شه له دوی سره په مالونو کښې او په اولادونو کښې .

**تفسیر :** یعنی په زړه کښې دی ارمان مه ساته او دوی ته په هر شانې چه زړه دی غواړی ترغیب ورکړه چه په خپلو مالونو او اولادونو کښې هم تاته برخې درکړی. یعنی دغه شیان په ناجائزو طریقو سره حاصل کړئ او په ناجائزو کښې ئې ولگوئ.

وَعِدْهُمْ ۚ وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطَانُ إِلَّا غُرُورًا ﴿٦٤﴾

او وعده کوه له دوی سره (د دروغو)، او نه کوی وعده له دوی سره شیطان مگر (په) مکر باطل (او فریب سره چه خطاء ورته ثواب ښکاروی).

**تفسیر :** یعنی چه شیطان انسان ته زرغونه باغونه ورښیی د ده په مکر او فریب او پلمو (تدبیرونو) کښې راتلل د احمقانو کار دی د شیطان گرد (تول) مواعید پر دغابازی او فریب مبتنی دی لکه چه په قیامت کښې دی پخپله به هم اقرار کوی (ووعدتکم فاخلفتکم) د ابراهیم ٤ رکوع (۱۳ جزء) آیة رقم (۲۲)

إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ ۚ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ وَكِيلًا ﴿٦٥﴾

بیشکه (خاص) بندگان ځما چه دی نشته تاته (ای شیطانه) پر دوی هیڅ قسم غلبه حکومت قدرت، او کافی دی رب ستا (ای شیطانه) وکیل ساتونکی (د خالصو بندگانو خپلو له شره ستا)

**تفسیر :** یعنی هر څوک چه پر الله تعالیٰ اعتماد او توکل وکړی هغه د ده کار جوړوی او د شیطان له لومو او چمبو (دامونو) څخه ئې راوباسی.

رَبُّكُمُ الَّذِي يُزْجِي لَكُمُ الْفُلْكَ فِي الْبَحْرِ

رب ستاسی هغه (قادر مطلق) دی چه چلوی تاسی ته بیړی (جهازونه) په بحر کښی.

**تفسیر :** دغه ئی د الله تعالیٰ د کار جوړولو یوه نمونه راوړاندی کړه چه په هغه کښی یو مشرک هم پر داسی اقرار کولو مجبور کیږی چه له ماسواء الله څخه بل هیڅوک د ګردو (تولو) مهماتو جوړوونکی او وکیل نشی کیدی ځکه چه

عارضی زور پکار نه دی ای کمزوره ! پخپل لاس ګته ! ځان ساته تل له پوره !

لِتَبْتَغُوا مِنْ فَضْلِهِ ؕ

له پاره د دی چه ولټوئ (رزق او روزی) له فضله د ده څخه،

**تفسیر :** علی الاکثر په لوی قرآن کښی روزی ئی په فضل سره تعبیر فرمایلی ده. د فضل معنی زیادت دی ځکه چه د مسلمانانو دغه بندګی او عبادت خو د آخرت دپاره دی او دنیوی فوائد دوی ته محض د امتحان او تمائل دپاره ورکول کیږی.

إِنَّهُ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا ﴿٦٦﴾ وَإِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فِي الْبَحْرِ ضَلَّ مَنْ تَدْعُونَ إِلَّا إِيَّاهُ ۖ فَلَمَّا نَجَّاكُمْ إِلَى الْبَرِّ أَعْرَضْتُمْ ۚ وَكَانَ الْإِنْسَانُ كَفُورًا ﴿٦٧﴾

بیشکه دغه (الله) دی پر تاسی ډیر مهربان او کله چه ورسیږی تاسی ته سختی په بحر کښی (او ویریږئ له غرقه) ورک شی (له فکره) هغه کسان چه ئی بولئ (او عبادت ئی کوئ) مګر یواځی دغه (الله) ته (زاری او عبادت کوئ) نو کله چه ومو ژغوری (بچ مو کړی) تاسی (له غرقه او ومو رسوی) وچی ته نو بیا ځنګ کوئ (له توحیده)، او دی انسان لوی ناشکره (په نعمتونو د رب خپل).

**تفسیر :** یعنی هم دا چه انسان له مصیبت څخه نجات وموند نو خپل حقیقی محسن بیخی له یاده وباسی. او هیروی ئی. څو دقیقی (منته) وړاندی د سیند په چپو او د بحر په امواجو کښی پرله پسی د الله تعالیٰ په یادونه کښی ؤ هم دغه چه د ګودر پر وچه باندی ئی پښه باندی ولګیده

نو بیا بیخی بی فکره کیږی او هغه گرځی (تولی) پیښی ئی هیری شی نو له دی نه لویه ناشکری او احسان هیرول به نور څه وی؟.

اَفَاَمِنۡتُمۡ اَنۡ يَّخۡسِفَ بِكُمۡ جَانِبَ الۡبَرِّ

نو آیا په امن (مطمئن او بی ویری) یئ تاسی له دی نه چه ډوب کړی تاسی په یو طرف د ځمکی وچی کښی.

**تفسیر :** یعنی د بحر په څنډو (غاړو) په وچه کښی مو ډوب کړی مثلاً چه زلزله راشی او په ځمکه کښی چاودی پیدا شی او د قارون په شان په ځمکه کښی ځښ کړی شئ! خلاصه ئی دا چه ستاسی اهلاک د سیند په موجونو او چپو پوری موقوفه نه دی هر چیری چه الله تعالیٰ اراده وفرمائی هلته مو وژنی.

اَوۡ يُرۡسِلَ عَلَيۡكُمۡ حَاصِبًا ثُمَّ لَا تَجِدُوۡا لَكُمۡ وَكِيۡلًا ۝٦٨ اَمۡ اَمِنۡتُمۡ اَنۡ
يُّعِيۡدَكُمۡ فِيۡهِ تَارَةً اُخۡرٰى

یا ولیږی پر تاسی سخت باد ورورونکی د وړو کانو بیا ونه مومئ تاسی د خپل ځان دپاره کوم ساتونکی آیا په امان کښی یئ تاسی (بلکه مأمون مه اوسئ) له دی نه چه بیا رانه باسی تاسی (الله) په دی (بحر) کښی (بل کرت) بیا دوهم ځلی.

**تفسیر :** یعنی داسی کوم ضرورت درپیښ کړی چه د هغه لامله (له وجی) لاعلاجه د سیند د سفر اراده وکړئ.

فَيُرۡسِلَ عَلَيۡكُمۡ قَاصِفًا مِّنَ الرِّيۡحِ فَيُغۡرِقَكُمۡ بِمَا كَفَرۡتُمۡ ثُمَّ لَا تَجِدُوۡا
لَكُمۡ عَلَيۡنَا بِهٖ تَبِيۡعًا ۝٦٩

نو ناڅاپه راولیږی پر تاسی ماتوونکی (د هر څیز) سخت باد نو غرق به کړی (الله) تاسی په سبب د کفر (شرک) د تاسی پس د هغه بیا به نه مومئ

د خپلو ځانونو دپاره پر مونږ په سبب د هغه غرق پوښتيدونکی (راپسی ګرځيدونکی).

**تفسير :** يعنی له الله تعالی څخه څوک پوښتنه کولی شی؟ يا د چا له واکه (اختياره) او توانه دغه کار پوره دی چه د پاک الله تعقيب وکړی؟ او (استغفر الله) د مجرمينو ديت يا قصاص تری واخلی؟.

وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيٓ ءَادَمَ وَحَمَلْنَٰهُمْ فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ وَرَزَقْنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَفَضَّلْنَٰهُمْ عَلَىٰ كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا ﴿٧٠﴾ ع

او خامخا په تحقيق ډير عزت ورکړی دی مونږ اولاده د آدم ته او سواره کړی مو دی دوی پر مرکوباتو باندی په بر (وچه) کښی او په بحر (سيند) کښی او رزق روزی مو ورکړی ده دوی ته له طيباتو پاکيزه ؤ شيانو او غوره کړی مو دی دوی پر ډيرو له هغه چا چه پيدا کړی مو دی په غوره کولو (ډيرو) سره.

**تفسير :** يعنی انسان ته د صورت حسن، نطق، تدبير، عقل، حواس، او نور ورعنايت فرمايلی دی چه د هغه په وسيله د خپل په دنيوی او اخروی مضارو او منافعو باندی پوهيږی او د ښو او بدو په منځ کښی سره تفريق کولی شی په هر طرف کښی د پرمخ تګ او ترقی لياری ورته پرانستلی دی. نور مخلوقات تر خپل واک (اختيار) لاندی راوړی شی او خپلی چاری تری اخيستی شی. په وچه کښی د حيواناتو پر شا او پر نورو راز راز (قسم قسم) نواقلو او وسائلو سفر کوی. په سيندونو او بحرونو کښی پر بيړيو او جهازونو او نورو نقليهؤ وسائلو سره بی تکلفه تګ‌راتګ مسافرت کولی شی، له قسماقسمو ښو ماکولاتو مشروباتو، ملبوساتو، کورونو او تعميراتو او د دنيوی نورو وسائلو او وسائطو او د هوسائی (ارام) او هستوګنی د هر راز (قسم) لوازمو او لواحقو څخه منتفع او ګټور کيږی د هم دغو انسانانو لوی پلار حضرت آدم عليه السلام ئی د پرښتو مسجود وګرځاوه او د دوی آخری رسول الله محمد صلی الله عليه وسلم ئی د ګردو (تولو) مخلوقاتو سردار او بادار غوره کړ. الغرض دغی انسانی نوعی ته ئی له ډيرو حيثياتو عزت، لوئی او عظمت ورکړی دی. او پر خپلو ډيرو مخلوقاتو ئی ورته فضيلت ورکړی دی. په پاس رکوع کښی د آدم عليه السلام په نسبت د شيطان داسی وينا چه (هذا الذی كرمت علی) او آدم عليه السلام ته د پرښتو د سجود او د انسانانو بحری او بری مسافرت ذکر ؤ. د دی آيت د مضمون ارتباط د پاس مذکورهؤ مضامينو سره په صاف ډول (طريقه) سره ښکاره دی.

**تنبیه :** مفسرین د دی آیت په ذیل کښی په دغه بحث کښی سره لګیدلی دی چه آیا پرښته افضله ده؟ که انسان پر پرښتو افضلیت لری؟ لیکن انصافی خبره خو دا ده چه له آیت څخه د دی خبری (د فاضل او مفضول) فیصله نه کیږی ځمونږ د حنفیانو دغه رأیه نقل کړی شوی ده چه بشری رسولان پر (ملکی رسولانو) افضلیت لری (او ملکی رسولان) پر نورو ګردو (تولو) پرښتو او انسانانو د (بشری رسولانو) په استثناء افضل دی. او عامو پرښتو ته پر عامو انسانانو افضلیت حاصل دی والله اعلم.

---

**يَوْمَ نَدْعُوا كُلَّ أُنَاسٍ بِإِمَامِهِمْ ۖ فَمَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ فَأُولَٰئِكَ يَقْرَءُونَ كِتَابَهُمْ وَلَا يُظْلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٧١﴾**

---

او (یاد کړه) هغه ورځ چه وبه بولو (په نامه سره) هر امت سره د انبیاء او مشرانو د دوی، نو هر هغه چاته چه ورکړه شوه اعمالنامه د ده په ښی لاس د ده کښی نو دغه (اصحاب الیمین) لولی به اعمالنامی خپلی (په ډیری خوشالی سره) او ظلم به ونه کړی شی (پر دوی) په اندازه د یو نری تار (چه په منځ د زړی د خرماؤ کښی وی).

---

**تفسیر :** دلته دا راښوولی کیږی چه په دنیا کښی له فطری حیثیته کوم عزت او فضیلت چه انسان ته ئی ښېلی ؤ هغه ئی تر کوم ځای پوری قائم ساتلی دی؟ او څومره داسی انسانان دی چه هغوی خپل انسانی عزت او شرف ئی خاورو سره برابر کړی دی؟ . خلاصه ئی دا ده چه د قیامت په ورځ به هره فرقه سره له هغه څیزه حاضریږی چه ده به د هغه پیروی او متابعت کاوه. مثلاً مؤمنین له نبی یا کتاب یا له دینی مشره سره. او کفار له مذهبی مشر، او لوی شیطان او باطلو معبودانو سره چه فرمایلی ئی دی ﴿ وَجَعَلْنَاهُمْ أَئِمَّةً يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ ۖ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا يُنصَرُونَ ﴾ ( ٢٠ جزء د القصص (٤١) آیت ٤ رکوع) او په حدیث کښی راغلی دی« لا تتبع کل ما کانت تعبد» په دغه وقت کښی د ګردو (تولو) انسانانو اعمالنامی به هغوی ته رسیږی، د ځینو اعمالنامی به د مخی له طرفه په ښی لاس کښی او د ځینو اعمالنامی به د شا له طرفه په کیڼ لاس کښی وررسیږی ګواکی دغه یو حسی علامت دی د مقبولیت او مردودیت دپاره. «اصحاب الیمین» یعنی په ښی لاس کښی د عملنامی اخیستونکی هغه کسان به وی چه په دنیا کښی ئی حق قبول کړی وی او خپل فطری شرافت او انسانی کرامت ئی باقی ساتلی وی. همغسی چه هغوی به دنیا کښی سره له پوهیدلو او سنجولو (غور کولو) کار کړی وی او خپل وړاندی وروسته ئی لیدلی وی په آخرت کښی هم همغه احتیاط د دوی په کار ورځی په دغه ورځ کښی به دوی له حده زیات خوښ او خوشاله وی او په ډیر سرور او انبساط سره به خپلی اعمالنامی لولی

او نورو ته به هم وایي ﴿ هَآؤُمُ اقْرَءُوا كِتَٰبِيَهْ ﴾ (۲۹) جزء د (الحاقه (۱۹) آية (۱) رکوع) راشئ! ځما دغه کتاب ولولئ باقي نور خلق يعني «اصحاب الشمال» د هغوی احوال په وروستنی آيت کښې بيان فرمايلی شوی دی. ځينی د (امام) له لفظه خپله اعمالنامه مرادوی ځکه چه هلته به خلق د هم دغی اعمالنامی پسی ورځی (لنده ئی دا چه په آخرت کښې به له هر چا سره همغه معامله وکړه شي چه وړ (لائق) او مستحق ئی وی او ظلم به ونه کړی شي پر دوی باندی په اندازه د هغه نری تار چه په منځ د زړيو د خرماؤ کښې وی). يعني د خرماؤ د زړيو په چاودو کښې چه هغه نری شان ته تار وی د هغه په قدر هم پر چا ظلم او تيری نه کيږی د هر يوه د زيار (محنت) او کوښښ بدل به پوره بلکه له پوره ځنی به هم زياته ګټه (فائده) ثمره دوی ته رسيږی.

---

وَمَن كَانَ فِي هَٰذِهِۦٓ أَعْمَىٰ فَهُوَ فِي ٱلْءَاخِرَةِ أَعْمَىٰ وَأَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٧٢﴾

---

او هر څوک چه وی په دغه (دنيا) کښې ړوند (له پيژندلو د حقه) نو هغه به په آخرت کښې هم ړوند وی (له لياری د خلاصی) او ډير لری به وی (د نجات او بری) له لياری (د ړندو پشان).

---

**تفسير**: يعني دلته د هدايت د لياری له ليدلو څخه ړانده پاتی وی. او هلته به آخرت کښې د جنت د لياری له ليدلو څخه هم ړانده او ډير لری تری پاتی کيږی «موضح القرآن» دغه د «اصحاب اليمين» په مقابل کښې د «اصحاب الشمال» ذکر دی ځينو د «اضل سبيلا» مطلب داسی اخيستی دی چه په دنيا کښې د مافات تلافی ممکنه ده ولی په آخرت کښې له هغه څخه هم ډير لری ولويدل ځکه چه په قيامت کښې د تدارک او تلافی هيڅ امکان نشته.

---

وَإِن كَادُوا۟ لَيَفْتِنُونَكَ عَنِ ٱلَّذِىٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ لِتَفْتَرِىَ عَلَيْنَا غَيْرَهُۥ ۖ وَإِذًا لَّٱتَّخَذُوكَ خَلِيلًا ﴿٧٣﴾

---

او په تحقيق شان دا دی چه نژدی وو (کفار د ثقيف دی ته) چه واړوی تا له هغه (قرآن) څخه چه وحی کړی ده مونږ تاته دپاره د دی چه وتړی ته پر مونږ بی له دی قرآنه او (که متابعت کړی وی تا د دوی نو) په دغه وقت کښې به (متابعت کړی وی دوی د تا او) خامخا نيولی به ئی وی دوی ته دوست.

**تفسیر :** له دغو باطني پڼدو څخه ځینې شریران خو هغه کسان دي چه پخپله بیخي پر سمه لیاره نه راځي بلکه نور غتي غتي سترګي لرونکي پوهان او هوښیاران هم غواړي چه وغولوي او تیرباسي لکه چه د معظمې مکې د کفارو دغه بې حیائي او جسارت ته وګورئ چه غواړي تاسي هم دغه طرف ته متمائل کړي چه د الله تعالیٰ هغه وحی او احکام چه پر تاسي ئې لیږلي دي د هغو یوه برخه تاسي د دوی له خاطره (معاذ الله) پریږدئ یا ئې بدل کړي، کله د حکومت، کله د دولت، کله د ښکلیو پیمخو جونو (جینکو) تطمیع او تشویق دوی ته وروړاندي کاوه. کله به ئې ویل چه مونږ به له خرمي (سیلمي) ستا تابع کیږو که چیرې له قرآن څخه تش همغه برخه لرې کړئ چه د شرک او بت پرستي په نسبت تردید کوي که په فرض محال (العیاذ بالله) تاسي داسي وکړئ نو خامخا هغوی به تاسي خپل تینګ دوست په شان منلي وي لیکن ستاسي جواب د هغوی په مقابل کښې داسي ؤ: که تاسي لمر او سپوږمي له آسمانه راښکته کړئ او یوه ئې ځما په یوه موټي کښې بل ئې ځما په بل موټي کښې راکړئ، خو بیا هم محمد صلی الله علیه وسلم د هغه څیز پریښودونکی نه دی چه پاک الله د هغه دپاره مبعوث کړی دی څو ئې تر پایه ونه رسوي یا خپل سر پرې جار (قربان) نه کړي.

په طلب کښې تل زیار کاږم　　　　　　څو مطلب ته ورسیږم
یا به سر ورکړم په لیار کښې　　　　　　یا به خپل یار ته رسیږم

---

وَلَوْلَآ أَنْ ثَبَّتْنٰكَ لَقَدْ كِدْتَّ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْـًٔا قَلِيْلًا ﴿٧٤﴾
إِذًا لَّأَذَقْنٰكَ ضِعْفَ الْحَيٰوةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيْرًا ﴿٧٥﴾

---

او که نه وي مونږ تینګ کړی ته (په حق باندي د عصمت) نو خامخا په تحقیق نژدې شوی وې ته چه میلان دې کړی وې دوی ته څه لږ (میلان) (او که لږ څه میل دې کړی وی) نو په دغه وقت کښې به خامخا په تحقیق څکلي مو وی تاته دوچند عذاب د ژوندون (په دنیا کښې) او دوچند عذاب د مرګ (په آخرت کښې) بیا به نه وه موندلی تا د ځان دپاره پر مونږ باندې مدد کوونکی (په دفع د عذاب کښې).

---

**تفسیر** «ترکن» له (رکون) څخه دی چه ادنیٰ راښکته کیدلو او د قلب ډیر خفیف میلان ته وائي له دې سره د (شیئا قلیلا) قید ئې زیات کړ نو له ادنیٰ ځنې ډیر ادنیٰ مرتبه ترې مراده شوه. بیا (لقد کدت) ئې وفرمایه او د هغه وقوع ئې لا لږ کړ یعني که دغه خبره نه وي چه ته معصوم نبي ئې چه ستا د عصمت ساتنه الله تعالیٰ پخپل خصوصي فضل سره کوي نو د دغو چالاکو شریرانو د فریب بازی څخه ډیر لږ څه هغه طرف ته به ستا قلبي میلان ورنژدې کیده

لیکن د انبیاؤ علیهم السلام د عصمت تکفل الله تعالیٰ فرمایلی دی نو ځکه دغومره یو خفیف تمائل هم په تا کښې ونه مونده شو. له دی نه ظاهریږی چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په وجود کښې د فطری تقویٰ قوت ډیر مضبوط او کلک او بیخی له تزلزل څخه عاری ؤ. (که قاری دغه پاس آیات په دقت سره بیا ولولی، او پکښې ښه دقیق او ښه ځیر شی) نو په دغو کښې هم د رسول کریم صلی الله علیه وسلم د فضل او شرف اظهار په نهایت لطیف چل سره مقصود دی. مقربینو ته همغسی چه انعامات ډیر دی ډیر مصائب او بلیات هم د دوی په برخه کښې راځی. او د دوی پر خورا ډیر لږ وړوکی غلطی یا قصور باندی هم سخت عتاب واردیږی. لکه چه ځمونږ د رسول الله مطهراتو ازواجو ته فرمایلی دی ﴿ يَٰنِسَآءَ ٱلنَّبِيِّ مَن يَأۡتِ مِنكُنَّ بِفَٰحِشَةٖ مُّبَيِّنَةٖ يُضَٰعَفۡ لَهَا ٱلۡعَذَابُ ضِعۡفَيۡنِ ﴾ (٢١ جزء د الاحزاب (٣٠) آیة (٤) رکوع) نو دغه ئی راوښود چه د دوی مرتبه کومه معمولی مرتبه نه ده که په فرض محال سره له ادنیٰ څخه ادنیٰ کومه غلطی وی نو په دنیا کښې او په برزخ کښې او په آخرت کښې دوچنده عذاب ورځکولی کیږی، هر مؤمن لره ښائی چه د دغو آیاتونو د تلاوت په وقت کښې په ګوندو او ځنګنو شی. او په انتهائی خوف او خشیت سره د الله تعالیٰ د جلال او جبروت په شان کښې غور وکړی! او همغه دعا دی وکړی چه پخپله به رسول الله مبارک کوله «**اللّٰهم لا تکلنی الی نفسی طرفة عین**» ای الها! د سترګی د یوه رپولو په اندازه می هم خپل نفس ته مه خوشی کوه!» یعنی تل می هم دغه ته حفاظت او ساتنه وکړه! او پخپل کفالت کښې می وساته!.

---

# وَإِن كَادُواْ لَيَسۡتَفِزُّونَكَ مِنَ ٱلۡأَرۡضِ لِيُخۡرِجُوكَ مِنۡهَاۖ وَإِذٗا لَّا يَلۡبَثُونَ خِلَٰفَكَ إِلَّا قَلِيلٗا ٧٦

---

او بیشکه شان دا دی چه نژدی ؤ (دغه مکی والا او غوښتل ئی) چه خامخا وخوځوی تا له ځمکی (د مکی یا د مدینی) له پاره د دی چه وباسی تا له دغی (ځمکی په مکر او فریب سره) او په دغه وقت کښې (که ته ئی ایستلی وی) نو درنګ به نه وی کړی وروسته له (ایستلو) د تا نه مګر لږ (مدت).

---

**تفسیر:** یعنی غواړی چه تاسی په تنګ کړی او ومو ویروی او له معظمی مکی څخه مو د باندی وباسی لیکن دوی دی دغه خبره هم په یاد ولری که هغوی داسی وکړه نو دوی به پخپله هم تر ډیرو ورځو پوری دلته نشی اوسیدلی. لکه چه هم داسی هم وشو چه د دوی هم دغه ظلم، ستم او تیری د دی خبری سبب شوه چه محمد صلی الله علیه وسلم له معظمی مکی نه منوری مدینی ته هجرت وفرمایه خو تر دی یو نیم کال وروسته د مکیانو لوی سرداران او مشران له خپلو کورونو څخه ووتل او د بدر په میدان کښې په نهایت ذلت او خواری سره ووژل شو. او له هغه پنځه شپږ

کاله وروسته پر معظمه مکه باندی هم د اسلام قبضه وشوه. د کفارو هغه حکومت او شوکت تباه او فنا شو او بالاخر په ډیر لږ مدت کښې نه یوازې په معظمه مکه په ټوله جزیرة العرب کښې د محمد صلی الله علیه وسلم یو تن مخالف هم پاتې نشو.

سُنَّةَ مَنْ قَدْ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنْ رُّسُلِنَا وَلَا تَجِدُ لِسُنَّتِنَا تَحْوِيْلًا ﴿۷۷﴾

(دغه وړاندی) طریقه ځمونږ (په مثل د هغی طریقی ځمونږ ده) په هغه چا کښې چه پر تحقیق لیږلی ؤ مونږ پخوا له تانه له رسولانو ځمونږ، او نه به مومې ته طریقه (عادت) ځمونږ ته هیڅ تغیر تبدیل.

**تفسیر :** یعنی ځمونږ هم دغه دستور له قدیمه تراوسه جاری دی کله چه په کوم کلی یا ښار کښې د الله تعالیٰ نبی ته ئی هستوګنه نه ده ورکړی نو پخپله د همغه ځای وسیدونکی نه دی پاتی شوی.

اَقِمِ الصَّلٰوةَ لِدُلُوْكِ الشَّمْسِ اِلٰى غَسَقِ الَّيْلِ

قائموه (سم ودروه له ټولو حقوقو) لمونځ وروسته له زواله د لمر تر تیاری د شپې پوری (یعنی د ظهر، عصر، مغرب، او عشاء لمونځونه ادا۔ کړه!)

**تفسیر :** یعنی د دوی د دغو حیلو او پلمو (تدبیرونو) هیڅ پروا مه کوئ او له سره خپل فکر او چرت پری مه خرابوئ تاسی تل خپل رب او مالک ته متوجه اوسئ! خپل لمونځونه سم صفا اداء کوئ! ځکه چه تعلق مع الله داسی یو څیز دی چه انسان ته پر ګردو (ټولو) مشکلاتو او نوائبو (تکالیف) بری او غلبه ورکوی: ﴿وَاسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ﴾ (اول جزء د البقرة پنځمه رکوع ځمونږ د دی تفسیر . په ﴿لِدُلُوْكِ الشَّمْسِ اِلٰى غَسَقِ الَّيْلِ﴾ کښې د مازپښین، مازدیګر، ماښام، ماسختن څلور واړه لمنځونه راغلل د جمع بین الصلٰوتین له مسئلی سره د دی آیت هیڅ تعلق نه دی که د جمعی اشاره تری واخیستله شی نو دوه نه بلکه د څلورو لمنځونو د جمع کولو مشروعیت به له دی نه ووځی هو! د صحیح ذوق په شرط دغه استنباط تری کیدی شی چه په ظهر کښې تعجیل او په عشاء کښې تاخیر ښائی چه مستحب وی الا لعارض.

وَقُرْاٰنَ الْفَجْرِ ؕ اِنَّ قُرْاٰنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُوْدًا ﴿۷۸﴾

او له قرائت د فجر (یعنی د سهار لمونځ اداء کړه) بیشکه چه قرآن لوستل

(لمونځ کول) د فجر حاضر شوی دی (یعنی ورحاضریږی ملائک د شپی او د ورځی).

**تفسیر** : ښائی د (قرآن الفجر) له تعبیره دی طرف ته اشاره وی چه په فجر کښی د قرائت تطویل مطلوب دی. په حدیث کښی راغلی دی چه: «د فجر او عصر په وقت کښی د شپی او د ورځی د پرښتو په منځ کښی سره مبادله واقع کیږی» لهٰذا په دغو دوو وقتونو کښی د ورځی او د شپی د پرښتو اجتماع وی نو ځمونږ قرائت او لمونځ د دوی په حضور کښی د زیار (کوشش) برکت او ښیګنی (نیکی) موجب دی په دغه وقت کښی پاس تلونکی پرښتی الله تعالی ته شهادت ورکوی چه مونږ د خپل تګ راتګ په وخت کښی ستا بندګان په لمانځه کښی مصروف او مشغول ولیدل. علاوه پر دی د سحر په وقت کښی طبعاً د سړی زړه هم حاضر او مجتمع وی.

وَمِنَ الَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهٖ نَافِلَةً لَّكَ ۖ عَسٰٓى اَنْ يَّبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُوْدًا ﴿٧٩﴾

او په (یوه توته د) شپی کښی خوب پریږده او ویښ اوسه (په لوستلو د قرآن په لمانځه کښی دا (زیاتی عبادت دی خاص تاته ښائی چه وبه دروی تا رب ستا په هغه مقام محمود (ستایلی شوی ځای د شفاعت) کښی.

**تفسیر** : حضرت شاه صاحب لیکی: «یعنی له خوبه راویښ شه! (په تهجد) کښی قرآن ولوله دغه حکم مو له ګردو (تولو) څخه زیات پر تا کړی دی چه تاته (له ګردو «تولو» څخه) لویه مرتبه درکوو. یعنی تهجد مو خاص پر تا واجب کړی دی او پر امت دی مستحب دی.
(مقام محمود) د عظمی شفاعت مقام دی. کله چه بل هیڅ یو نبی به هیڅ یو شی نشی ویلی نو ځمونږ بادار او سردار او آغا محمد رسول الله صلی الله علیه واله وصحبه وسلم به عرض وکړی او ګرد (تول) مخلوق به له تکالیفو څخه وژغوری (بچ کړی) په دغه وقت کښی به د هر یوه انسان پر ژبه د محمدی صلی الله علیه وسلم د شریعت او فضیلت حمد او صفت به وی او الله تعالیٰ به هم د دوی تعریف کوی. ګواکی د محمدیت د شان ظهور به په پوره ډول (طریقه) سره کیږی.
**تنبیه** : د «مقام محمود» دغه تفسیر په صحیحهؤ احادیثو کښی راغلی دی او په (بخاری شریف) او په (مسلم شریف) او د احادیثو په نورو مقدسو کتابونو کښی د (کبریٰ شفاعت) نهایت مفصل بیان شته شارحینو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته لس قسمه شفاعت ثابت کړی دی په «فتح الباری» کښی دی ولوست شی.

وَقُلْ رَّبِّ اَدْخِلْنِىْ مُدْخَلَ صِدْقٍ وَّ

اَخْرِجْنِیْ مُخْرَجَ صِدْقٍ وَّاجْعَلْ لِّیْ مِنْ لَّدُنْكَ سُلْطٰنًا نَّصِیْرًا ﴿۸۰﴾

او ووایه (ای محمده !) ای ربه ځما ننه باسه ما په ننویستلو رښتیا (ښو سره مدینی ته) او وباسه ما په ویستلو رښتیا (ښو سره له مکی نه) او وګرځوه ما لره له جانبه خپله یو قوت مدد کوونکی (له اسلامه سره پر کفر باندی)،

**تفسیر :** یعنی چیری چه زه رسولی کیږم (مثلاً مدینی منوری ته) په نهایت پت، عزت، حرمت شوکت سره می ورسوه چه د حق کلمه علیا وی! او له هر ځای څخه چه ایستل یعنی بیلتون دی (مثلاً له مکی څخه) نو هغه دی هم په پت، (غیرت) عزت، حرمت، شوکت سره وی چه دښمنان ذلیل او خوار او دوستان خوښ او فرحان شی! او په هر صورت د صداقت فتح او بری وی او د کذب سر ځوړند او ښکته وی!. او داسی غلبه او تسلط راعنایت کړه چه له هغه سره ستا مدد او نصرت هم وی څو د حق کلمه علیا. او معاندین ذلیل او ښکته وی! په دنیا کښی هر یو قانون چه وی سماوی یا ارضی نو د هغه د انفاذ دپاره تر یوی درجی پوری د حکومت مدد ضروری دی څو د هغو کسانو ضرر او فساد او عناد له مخه ورک کړی شی چه سره د دلائلو او براهینو له آوریدلو او د لمر په شان د حق د واضح کیدلو هم ضد او عداوت چلوی نو ځکه په ۲۷ جزء د حدید د سورت په ۲۵ آیة ۳ رکوع کښی فرمایلی دی ﴿ لَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَیِّنٰتِ وَاَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتٰبَ وَالْمِیْزَانَ لِیَقُوْمَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ ۚ وَاَنْزَلْنَا الْحَدِیْدَ فِیْهِ بَاْسٌ شَدِیْدٌ وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ ﴾ الآیة -

وَقُلْ جَآءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ ؕ اِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوْقًا ﴿۸۱﴾

او ووایه (ای محمده ! دوی ته کله چه بیرته ننوتی مکی ته فاتحاً) راغی حق (اسلام) او په تیښته ورک شو باطل (کفر او شرک) بیشکه باطل دی ورکیدونکی (بی ثباته).

**تفسیر :** دغه عظیم الشان پخوا ویل په معظمی مکی کښی شوی ؤ چه هلته په ښکاره ډول (طریقه) سره د حق د غلبی کوم سامان نه ؤ یعنی ووایه ای محمده ! لوی قرآن چه مسلمانانو ته زیری ورکوونکی او باطل له منځه لری کوونکی او ورکوونکی دی راغی پس وبوهیږئ چه اوس حق دین غالب شو! او د کفر د تښتیدلو پیښه یواځی له مکی معظمی څخه نه بلکه له ګردی (تولی) جزیرة العرب څخه په عمل راڅی په حدیث کښی راغلی دی کله چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم په مکه معظمه کښی په بری ننوت نو په دغه وقت کښی د کعبی شریفی په چار چاپیر کښی دری سوه او شپیته بتان په یوی لښتی سره پر ګردو (تولو) یو یو وار کاوه او داسی به ئی فرمایل

﴿ جَآءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ اِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوْقًا ﴾ ﴿ جَآءَ الْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيْدُ ﴾
نو هر بت به پرمخې لویده په دغه شان د پاک قرآن یو پخوا ویل پوره شو او بل داسې یو اعلان وکړ شو چه «هغه کفر چه له کعبې څخه تښتیدلی دی. بیا به له سره بیرته نه راځي!» والحمد لله علیٰ ذلک.

وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۙ وَلَا يَزِيْدُ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا خَسَارًا ﴿۸۲﴾

او نازلوو (پر تا) له قرآنه هغه څیز چه شفاء دی (له ظاهری او باطنی امراضو) او رحمت دی دپاره د مؤمنانو (چه نفع پرې اخلي) او نه زیاتوی (دغه قرآن) ظالمانو (کافرانو) ته مګر زیان (هلاکت چه ایمان پرې نه راوړی).

**تفسیر**: یعنی څرنګه چه د حق له راتګه باطل تښتی، قرآنی آیات هم چه بالتدریج نازلیږی نو روحانی امراض هم لرې کیږی او له زړونو څخه د باطلهٔ عقائدو او ذمیمهٔ اخلاقو د شکوکو او شبهاتو رنځوری بیخی محوه او ورکوی بلکه ډیر اوقات د هغه له مبارک تأثیر بدنی صحت هم حاصلیږی لکه چه په (روح المعانی او زاد المعاد) او نورو کښې د دی فلسفه او تجربه بیان کړی شوی ده. په هر حال هغه کسان چه ایمان راوړی یعنی د شفاء دغه نسخه استعمال کړی نو له ګردو (تولو) قلبی او روحانی امراضو څخه نجات مومی. او د الله تعالیٰ په خصوصی رحمت او باطنی او ظاهری نعماؤ افتخار حاصلوی. هو! هغه مریض چه له خپل ځان سره دښمنی کوی او له طبیب او معالجې سره د مخالفت تصمیم وکړی. نو ظاهر دی چه په همغه اندازه چه دی له علاجه او دواء څخه نفرت وکړی. او لرې تری وتښتی په همغه اندازه په زیان ومومی. ځکه چه مرض د زمانی له امتداده داسې مهلک شي چه له روحه سره یو ځای له بدنه لرې کیږی نو دغه آفت د پاک الله له طرفه نه بلکه پخپله د همغه ظالم مریض له لوری راغلی دی لکه چه جزء (۱۱) د التوبة په (۱۶ رکوع) ۱۳۵ آیت کښې پاک الله فرمائی ﴿ وَاَمَّا الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ فَزَادَتْهُمْ رِجْسًا اِلٰى رِجْسِهِمْ وَمَاتُوْا وَهُمْ كٰفِرُوْنَ ﴾

وَاِذَآ اَنْعَمْنَا عَلَى الْاِنْسَانِ اَعْرَضَ وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ ۚ وَاِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ كَانَ يَئُوْسًا ﴿۸۳﴾

او کله چه نازل کړو نعمت (او احسان) پر (نافرمان) انسان (لکه صحت، وسعت، راحت) نو مخ وګرځوی (له یاده د الله) او لری شی تری په اړخ ګرځولو (له کبره)، او کله چه ورسیږی ده ته شر بدی نو شی دی نا امیده.

**تفسیر** : یعنی د انسان عجب حال دی کله چه الله تعالیٰ ده ته پخپل فضل سره نعمتونه وربښی نو احسان ئی نه منی هومره عیش او آرام ئی چه ور په برخه شی هغومره ئی د هغه حقیقی منعم له طرفه غفلت او اعراض زیاتیږی او د عبودیت له فرائضو ځخه ځان وباسی او غاړه غړول تری غواړی بیا کله چه سخت او خراب وقت پری راشی نو یو ځلی به ګرد (تول) امیدونه او اسری وشکوی. مایوس او ناامیده کیښی. ګواکی په دواړو حالاتو کښی له پاک الله ځخه خپله علاقه شکوی. کله د غفلت په بناء، کله د مأیوسی په اقتضاء ( نعوذ بالله من کلا الحالین) دغه مضمون ئی غالباً ځکه فرمایلی دی چه د پاک قرآن چه له ګردو (تولو) ځخه د الله تعالیٰ لوی نعمت دی زیات خلق قدر نه کوی بلکه د هغه له منلو هم اعراض او غاړه غړوی. نو بیا کله چه د دی انکار، اعراض او کفران بده نتیجه دوی ته وروړاندی کیږی نو په دغه وقت کښی دیر سخت مأیوس کیږی. او له هیڅ لوری رڼا په نظر نه ورځی او بی هیلی او ناامیده کیږی.

قُلْ كُلٌّ يَعْمَلُ عَلٰى شَاكِلَتِهٖ ۖ فَرَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِمَنْ هُوَ اَهْدٰى سَبِيْلًا ﴿۸۴﴾ ع

ووایه (ای محمده! دوی ته) چه هر څوک عمل کوی په هغی طریقی چه مناسب وی له حاله د ده (له ښو او بدو) نو رب ستاسی ښه خبردار دی په هغه چا چه هغه ښه موندونکی وی د سمی لیاری.

**تفسیر** : یعنی هر یو کافر او مؤمن، معرض او مقبل پر خپلو طریقو، نیاتو، طبیعتو او مذاهبو تګ کوی او په همغه کښی محو او لګیا وی. لیکن په یاد ئی ولرئ چه د الله تعالیٰ له محیط علمه د هیڅ انسان هیڅ یو عمل نشی خارجیدی. الله تعالیٰ د هر چا د عمل طریقه او حرکات او سکنات برابر ګوری او ښه عالم دی چه کوم یو څومره سم تګ کوی او په کوم کوم شی کښی په څه اندازه چپ (کوږ) تګ کوی؟ یا په کږه لیاره ځی؟ او له هر یوه سره سم د هغه له عمل سره معامله کوی.

وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الرُّوْحِ ؕ

او پوښتنه کوی له تانه (ای محمده!) له (کیفیته د) روح څخه،

**تفسیر :** یعنی انسانی روح څه شی دی؟ او د هغه ماهیت، حقیقت څه دی؟ د صحیحینو شریفینو له روایته سره موافق دغه سؤال د مدینې منورې یهودانو له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د ازموینې په ډول (طریقه) کړی وو. او د سیرو روایاتو څخه معلومیږي چه په معظمه مکه کښې قریشو د یهودانو په مشورې دغه پوښتنه کړی ده نو ځکه د دې آیت په مکیت او مدنیت کښې اختلاف دی ممکن دی چه نزول ئې مکرر وی. والله اعلم.
دلته د دې سؤال له اندراجه به غالباً دغه مقصود وی چه دغه خلق د هغو شیانو له پوهیدلو څخه چه ورته اړتیا (احتیاج) او ضرورت لرې خو اعراض کوی او په غیر ضروری مسائلو کښې د عناد او تعنت (ضد) له لیاری جگړې کوی. دوی دغې خبرې ته زیات ضرورت درلود (لرلو) چه د قرآنی وحی له روح څخه باطنی ژوندون ئې حاصل کړی وی. او د دغې د شفاء له نسخې څخه مستفید شوی وی ﴿ وَكَذٰلِكَ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ أَمْرِنَا ﴾ (۲۵ جزء د الشوریٰ (۵۲) آیة (۵) رکوع) ﴿ يُنَزِّلُ الْمَلٰٓئِكَةَ بِالرُّوحِ مِنْ أَمْرِهِ عَلٰى مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِٓ ﴾ جزء (۱٤) (د النحل ۲ آیت (۱) رکوع) مگر دوی ته له لرې له کاره او د عنادی مباحثو څخه چیرې فرصت پیدا کیده؟ مثلاً دغو معاندینو به داسې پوښتنې کولې: روح څه شی دی؟ جوهر دی؟ که عرض؟ مادی دی؟ که مجرد؟ بسیط دی؟ که مرکب؟ د داسې قسم غامضو او بې ضرورتو مسائلو په پوهیدلو نه نجات موقوف دی. او نه دغه بحثونه د انبیاؤ د تبلیغ له فرائضو سره تعلق لرې. لوی لوی حکماء او فلاسفه تر نن پورې پخپله د (مادی) په حقیقت نه دی مطلع شوی روح چه په هر حال له (مادی) څخه ډیر لطیف او خفی دی د هغه اصلی ماهیت او کنهې پورې د رسیدلو څه امید به وکړی شي؟ د مکې معظمې د مشرکینو د جاهلانو او د مدینې منورې د یهودانو د اسرائیلیاتو مطالعه کوونکو ته معلوم دی چه هغه قوم چه په ډیر غتو خبرو او په نهایت واضحؤ حقایقو هم نشی پوهیدی نو دوی به د روح پر حقایقو د پوهیدلو څه قدرت او استعداد ولری؟.

---

قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي وَمَآ أُوتِيتُم مِّنَ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٨٥﴾

---

ووایه (ای محمده! دوی ته) چه روح له امره د رب ځما دی او نه ده درکړی شوی تاسی ته (برخه) له علم (پوهنې) څخه مگر لږه

---

**تفسیر :** په موضح القرآن کښې دی چه یهودانو د امتحان په مقصد له رسول الله څخه دا پوښتنه وکړه نو پاک الله په واضح صورت دوی ته دغه ورونه‌ښود. ځکه چه دوی د هغه د پوهیدلو حوصله نه درلوده (لرله). پخوانیو انبیاؤ هم له مخلوق سره داسې دقیقې خبرې نه دی کړی دومره پوه کافی ده چه د الله تعالیٰ په حکم سره یو شی په بدن کښې لویږی کله چه هغه روح له بدن څخه وځی نو سا هم خیژی او انسان مری.

**تنبیه :** د الله تعالیٰ کلام پخپلو محتویاتو کښې عجیب او غریب اعجاز لری. د روح په نسبت ئې دلته چه څه فرمایلی دی د هغه سطحی مضمون عوامو او قاصر الفهمو او کړو تلونکو معاندینو دپاره کافی دی لیکن د هم دغه سطحی لاندې په هم دغو مختصرو الفاظو کښې د روح په متعلق داسې بصیرت زیاتوونکې حقائق او دقائق مستور دی چه د ډیرو لویو لویو عالی دماغو مدققو فلسفیانو او د یوه کامل عارف د طلب او د تحقیق د لیاری دپاره د هدایت د ډیوی په شان کار ورکوی. د روح په متعلق له قدیمی عهده راهیسی د تحقیقاتو هغه سلسله جاری ده چه هغه تر نن پوری نه ده ختمه شوی او ښائی چه ختمه نه شی. د روح اصلی کنهی او حقیقت پوری د رسیدلو دعوی خو ډیره مشکله ده، ځکه چه تر اوسه پوری ډیر داسې محسوسات دی چه مونږ د هغو د کنهو او حقیقت د معلومولو څخه عاجز پاتی یو. خو بیا هم ځما په نزد له قرآنیه ؤ آیاتونو څخه د روح په متعلق پر دغو څو نظریاتو صافه رڼا لوېږی:

(۱) : په انسان کښې علاوه پر دغه مادی جسم یو بل شی هم شته چه هغه ته (روح) وائی هغه د عالم امر څیز دی او د الله تعالیٰ په حکم او اراده فائض کیږی ﴿ قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي ﴾ ﴿ خَلَقَهُ مِن تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴾ جزء ۳ ( د آل عمران ۵۹ آیت ٦ رکوع) ﴿ ثُمَّ أَنشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ ﴾ جزء ۱۸ د المومنون (۱ رکوع) ۱٤ آیت ﴿ إِنَّمَا قَوْلُنَا لِشَيْءٍ إِذَا أَرَدْنَاهُ أَن نَّقُولَ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴾ جزء ۱٤ (د النحل ٤۰ آیت (۵ رکوع).

(۲) : د روح علم او شعور او لوړ صفات په تدریج سره په کمال رسیږی او په ارواحو کښې د کمال د حصول په اعتبار بی حده تفاوت او د مراتبو فرق وی تر دی چه د الله تعالیٰ له تربیته یو روح داسې لوړ او اعلیٰ مقام ته رسیږی چه نور ارواح هغه ته له سره نشی رسیدی لکه چه د محمد صلی الله علیه وسلم روح تر هغه ځایه پوری رسیدلی ؤ چه زمونږ ناقص فکر ورته نشی رسیدی.

**«یشیر الیه اضافة الامر الی الرب والرب الی یاء المتکلم المراد به ههنا محمد صلی الله علیه وسلم وقوله تعالیٰ فیما بعده** ﴿ قُل لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنسُ وَالْجِنُّ عَلَىٰ أَن يَأْتُوا بِمِثْلِ هَٰذَا الْقُرْآنِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ ﴾

(۳) : مگر د ده دغه کمالات ذاتی نه دی حقیقی وهاب ورعطاء کړی او محدود دی. یدل علیه قوله تعالیٰ ﴿ وَمَا أُوتِيتُم مِّنَ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا ﴾ **فان العلم قد اتاه من مفیض آخر وهو قلیل فی جنب علم الله تعالیٰ** کما قال الله تعالیٰ ﴿ قُل لَّوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا لِّكَلِمَاتِ رَبِّي لَنَفِدَ الْبَحْرُ قَبْلَ أَن تَنفَدَ كَلِمَاتُ رَبِّي ﴾ الآیة - جزء ۱٦ (د الکهف ۱۰۹ آیت ۱۲ رکوع) ﴿ وَلَوْ أَنَّمَا فِي الْأَرْضِ مِن شَجَرَةٍ أَقْلَامٌ وَالْبَحْرُ يَمُدُّهُ مِن بَعْدِهِ سَبْعَةُ أَبْحُرٍ مَّا نَفِدَتْ كَلِمَاتُ اللَّهِ ﴾ جزء ۲۱ (د لقمان ۲۷ آیت ۳ رکوع) ویدل علیٰ تحدید القدرة قوله تعالیٰ فیما بعد ردا لقولهم «لن نومن لك حتیٰ تفجرلنا من الارض ینبوعاً» الآیة ﴿ قُلْ سُبْحَانَ رَبِّي هَلْ كُنتُ إِلَّا بَشَرًا رَّسُولًا ﴾ انسانی روح اگر که په علم قدرت او نورو صفاتو کښې ډیره ترقی وکړی تر دی چه د خپلو گردو (تولو) هم جنسانو په نسبت ډیره د مخه هم لاړ شی بیا هم د هغه صفات محدود وی او د باری تعالیٰ د صفاتو په شان نه لامحدوده کیږی او هم دغه لوی

دلیل دی د دی خبری چه د آریه‌ؤ له عقیدی سره سم روح له الله تعالیٰ شخه بیل کوم قدیم او غیر مخلوق موجود نشی کیدی که نه تحدید به ئی له کومه راځی؟.
(٤) : هومره چه لوی کامل روح وی الله تعالیٰ ته دغه قدرت حاصل دی چه هر کله چه اراده وفرمائی له هغه شخه د کمالاتو سلب وکړی اګر که د ده له فضله او مرحمته داسی شی هیڅ نه دی واقع شوی. یدل علیه قوله تعالیٰ ﴿ وَلَئِن شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ بِالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ بِهِ عَلَيْنَا وَكِيلًا إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ إِنَّ فَضْلَهُ كَانَ عَلَيْكَ كَبِيرًا ﴾ دغه ټول اصوله چه مونږ بیان کړل اهل الفهم ته تری نسق الآیات په ادنیٰ تأمل کولو سره معلومیدی شی. یوائحی یو د (عالم الامر) لفظ دی چه د هغه مناسب تشریح ضروری دی او د هغه په پوهیدلو سره امید شته چه د روح په معرفت حاصلولو کښی ډیره مرسته (مدد) وشی د (امر) لفظ په لوی قرآن کښی په شلهاؤ ځایونو راغلی دی او د هغه د معنی په تعیین کښی علماؤ کافی کلام کړی دی، لیکن دلته ځما غرض د «الاعراف» د سورت د ﴿ أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ ﴾ آیت په طرف توجه ورکول دی، چه هلته ئی (امر) د خلق په مقابل کښی ایښی دی چه په هغه سره مونږ دغی نتیجی ته رسیدی شو چه د پاک الله په نزد دوه مد بالکل علیٰحده علیٰحده دی، یو د «خلق» بل «امر» د دغو دواړو په منځ کښی څه فرق شته؟، په هغه باندی مونږ د آیت له سیاقه په ښه شانی سره پوهیدی شو. ړومبی ئی وفرمایل ﴿ إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ﴾ جزء ۸ (الاعراف ٥٤ آیت ۸ رکوع) دغه خو «خلق» شو په منځ کښی د (استواء علی العرش) ذکر ئی وکړ چه د حکم چلولو اظهار تری څرګندیږی (ښکاریږی)، بیا ئی وفرمایل ﴿ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهُ حَثِيثًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومَ مُسَخَّرَاتٍ بِأَمْرِهِ ﴾ جزء ۸ (الاعراف ٥٤ آیت ۷ رکوع) یعنی دغه مخلوقات پر یوه معین او محکم نظام پرله پسی چلوی چه هغه ته تدبیر او تصریف ویلی شو، دغه خو «امر» شو. ﴿ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ وَمِنَ الْأَرْضِ مِثْلَهُنَّ يَتَنَزَّلُ الْأَمْرُ بَيْنَهُنَّ ﴾ جزء ۲۸ (د الطلاق ۱۲ آیت ۲ رکوع).
ګواکی د دنیا مثال لکه یوه لویه کارخانه وګڼئ چه د مختلفو اقسامو مشینونه پکښی لګولی شوی دی یو ئی کالی اوبی (کپړی جوړوی) . او بل ئی اوره کوی. هغه بل ئی کتابونه چاپوی. یو ئی د ښارونو دپاره د برق او بریښنا قوت پیدا کوی. بل ئی قند او بوره (چینی) جوړه وی وغیر ذلک. په هر مشین کښی ډیری پرزی دی چه د مشین د غرض او غایت په لحاظ په یوه معینه اندازه سره ریژولی شی او ځای په ځای په کښی لګولی شی بیا دغه ګردی (تولی) پرزی سره ترلی او جوړولی شی، او مشین تری ساز او سنبال کیږی. کله چه دغه ګرد (تول) مشینونه سره روغ جوړ ساز او سنبال شول دلته د بریښنا (برق) د قوی له مخزنه د هر مشین په طرف بیل بیل برق جریان مومی، او د بریښنا قوت ورخوشی کیږی، چه په واحد آن او په یوه شیبه کښی هغه ګرد (تول) ساکن او بی حرکته او چپ مشینونه سم له خپل جوړښت او مقرر حرکت سره چلیږی. تاویږی او په راز راز (قسم قسم) چارو کښی بوخت (مشغول) لګیا کیږی او همغه برقی قوه هره پرزه او هر څرخ او نور د هغه مخصوص ساخت او د غرض په مطابق چورلوی او

په حرکت ئی اچوی. تر دی چه هغه قلیله یا کثیره برقی قوه چه څراغونو، دیوو، ګرویو او قمقمو بخاریو او نورو ته رسیږی د همغو شیانو رنګ او هیئت ځان ته غوره کوی، په دغه مثال دغه خبره ښه واضحه او څرګنده (ښکاره) شوه چه د مشین قالب جوړول او بیا د هغه هر قسم سامان او لوازم ریژول او جوړول او بیا د هغه ګردی (تولی) پرزی په سمه برابره اندازه، برابرول. او یو له بله سره لګول او نښلول. یوه سلسله مقدماتی کارونه دی چه د هغو له تکمیل څخه وروسته د دغه مشین د چالانولو دپاره یو بل څیز راوړلو ته هم ضرورت لرو چه هغه محرکه قوه ده (اعم له دی چه برق وی که بخار یا نور). هم داسی وپوهیږئ چه بلا تشبیه الله تعالیٰ د آسمان او د ځمکی ګرد (تول) مشینونه جوړ کړل، چه هغه ته (خلق) وائی هره وړوکی او لویه پرزه ئی په سمه برابره اندازه جوړه کړه. چه هغه ته (تقدیر) ویلی شوی دی (قدره تقدیرا) بیا ئی هغه ګردی (تولی) پرزی سره جوړی کړی او وی نښلولی چه هغه ته (تصویر وائی) ﴿ وَلَقَدْ خَلَقْنٰكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنٰكُمْ ﴾ جزء ۸ (د الاعراف ۱۱ آیت ۲ رکوع) دغه ګرد (تول) افعال د (خلق) په مد کښی ؤ اوس نو د دغی خبری ضرورت واقع دی هر هغه مشین چه د هر کار دپاره درولی شوی دی په همغه کار ولګولی شی. بالاخر د مشین چالانولو دپاره (امر الله) یعنی لکه محرکه قوه (برق، بخار، فشار، او نور) پری خوشی کره شوه ښائی د دی تعلق د «الباری» له اسمه سره وی ﴿ الْخٰلِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ ﴾ جزء ۲۸ د الحشر ۲۴ آیت ۳ رکوع و فی الحدیث « خلق الجنة وبرأ النسمة» وفی سورة الحدید (من قبل ان نبرأها ) ای النفوس کما هو مروی عن ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه وقتادة والحسن الغرض له هغه طرفه حکم وشو چه (ځه!) فوراً وچلید هم دغه د الله امر ته فرمایلی دی ﴿ إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَنْ يَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ ﴾ جزء ۲۳ (د یٰسین ۸۲ آیت ۵ رکوع) په بل ځای کښی په دیر وضاحت سره د (کن) امر ئی د جسد پر خلق مرتب کړی او فرمایلی دی ﴿ خَلَقَهُ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ ﴾ جزء ۳ ( د آل عمران ۵۹ آیت ٦ رکوع) بلکه له تتبع څخه ظاهریږی چه په لوی قرآن کښی د ﴿ كُنْ فَيَكُونُ ﴾ مضمون په هومره مواضعو کښی چه راغلی دی عموماً د خلق او ابداع له ذکر څخه وروسته راغلی دی چه له هغه څخه داسی یو خیال پیدا کیږی چه د «کن» کلمه د «خلق» له خطابه وروسته د تدبیر او تصریف او د نورو دپاره وی والله اعلم. په هر حال زه غواړم چه داسی ووایم چه دلته «امر» معنی «حکم» دی او هغه حکم هم دا دی چه د «کن» له لفظ سره تعبیر کړی شوی دی او د «کن» لفظ د کلام له هغه جنسه دی چه د الله تعالیٰ له قدیمهؤ صفاتو څخه دی همغسی چه مونږ د هغه ګرد (تول) صفات (مثلاً حیات. سمع. بصر او نور) بلاکیف تسلیم کوو د کلام الله او کلمة الله په متعلق هم ښائی په همغه مسلک باندی ټینګ ودریږو.

د مطلب خلاصه داسی شوه چه له (روح) سره د قرآن کریم په ډیرو ځایونو کښی د (امر) د لفظ استعمال شوی دی مثلاً ﴿ قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي ﴾ ﴿ وَكَذٰلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحًا مِنْ أَمْرِنَا ﴾

﴿ يُلْقِي الرُّوحَ مِنْ أَمْرِهِ عَلٰى مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ ﴾ ﴿ يُنَزِّلُ الْمَلٰٓئِكَةَ بِالرُّوحِ مِنْ أَمْرِهِ عَلٰى مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ ﴾

او پخوا له دی نه تیره شوه چه «امر» د «کن» له کلمی څخه عبارت دی یعنی هغه انشائی کلام چه په هغه سره د مخلوقاتو تدبیر او تصریف په هغه طریقه

سره وکړی شی چه پری د ایجاد او تکوین غرض مرتب شی. لهٰذا ثابت شو چه د روح مبدأ د الله تعالیٰ د کلام صفت دی چه د علم د صفت ماتحت دی ښائی ځکه ﴿ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِي ﴾ کښی هغه ئی ځان ته منسوب کړ. د «کلام» او د «امر» نسبت متکلم یا آمر ته د (صادر) یا د «مصدور» په لحاظ وی او د «خلق» او مخلوق په ملحوظ نه وی ځکه په ﴿ أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ ﴾ کښی ئی «امر» د «خلق» په مقابل کښی کیښود. هو! دغه د «کن» امر د باری تعالیٰ له شأنه څخه د صدور په وقت کښی ممکن دی د مجرد جوهر په لباس یا «اکبر ملک» یا د «اعظم روح» په صورت ظهور ونیسی چه د هغه ذکر په ځینو آثارو کښی شوی دی او هغه ته مونږ د «برقیه روحیه» مخزن ویلی شو. ګواکی له هم دی ځایه د حیاتی روح جریان پر ذوی‌الارواحو تقسیم کیږی او د «الارواح جنود مجندة» بیشماره تارونه هم دلته سره تولیږی او یو له بله سره نښلی او کوم جریان چه د وړکیو او لویو بیشمارو مشینونو په طرف خوشی کیږی همغه له همغه مشین څخه سم د هغه له جوړښت او استعداد سره کار اخلی او د ده له جوړښت سره مناسب حرکت ورته ورکوی بلکه په هغو ګروپو او قمقمو کښی دغه برقی جریان رسیږی له همغو سره مناسب رنګ او هیئت اختیاروی. پاتی شوه دغه خبره چه د «کن» حکم چه د کلام له قسمه دی د مجرد جوهر یا د نورانی لطیف جسم شکل څرنګه اخیتارولی شی؟ دا دغسی وګنئ چه ګرد (تول) عقلا په دی باندی متفق دی چه کوم اشکال او صور چه مونږ په خوب کښی وینو ځینی اوقات هغه ځمونږ خیالات دی چه د سیند، غره، ځمری، لیوه او د نورو اشکال ځمونږ په نظر راځی اوس د غور کولو مقام دی خیالات چه اعراض دی او له دماغه سره قائم دی هغه به څرنګه جواهر او اجسام جوړیږی؟ او په څه شان په هغو کښی د اجسامو لوازم او خواص پیدا کیږی؟ تر دی اندازی پوری چه ځینی اوقات خوب لیدونکی وروسته له ویښیدلو بیا هم د هغه له آثاره نه بیلیږی.

فی‌الحقیقت الله تعالیٰ د خوب په وسیله هر انسان ته دیر ښه هدایت فرمایلی دی کله چه د یوه انسان په مصوره قوت کښی ئی دومره یو طاقت ایښی دی چه هغه سم له خپل بساط سره غیر مجسم خیالات په جسمی قالب کښی اچوی او په هغه کښی همغه خواص او آثار باذن الله پیدا کړی چه د ویښتوب په عالم کښی له اجسامو سره ترلی دی بیا خوشالی په دی کښی ده چه هغه خیالات د خوب لیدونکی له دماغه د یوی دقیقی (لحظی) له مخی هم نه جلا (جدا) کیږی او د هغه ذهنی وجود تل قائم وی نو آیا د دغی حقیری نمونی له لیدلو څخه مونږ دومره نشو پوهیدی چه ممکن دی د مطلق قادر او برحق مصور جل وعلا د «کن» د بی کیفه امر سره د قائمه صفت بذاته تعالیٰ په کوم یو صورت یا متعددو صورتو کښی راښکاره شی هغو صورتو ته مونږ ارواح یا پرښتی یا په بل داسی نامه سره بللی شو هغه ارواح او ملائکی او نور ګرد (تول) سره حادث وی او د الله تعالیٰ امر پخپل حال قدیم پاتی شی د امکان او حوادث آثار او احکام ارواح او نورو پوری محدود پاتی شی او د الله تعالیٰ امر له هغه څخه پاک او اعلیٰ وی لکه هغه خیالی صورت چه د خوب په حالت کښی اور په نظر راځی په دغه ناریه صورت کښی، احراق،

سوځیدل، تودوالی او نور ګرد (تول) آثار محسوسوو حال دا چه د دی اور تصور تر کلونو کلونو پوری هم په دماغو کښی پاتی شی نو مونږ ته د یوی ثانیی له مخی هم دغه آثار نه محسوسیږی. نو هیڅ شبهه نشته چه انسانی روح که جوهر مجرد وی یا نورانی لطیف جسم د (امر ربی) مظهر دی. لیکن دا ضروری نه ده چه د مظهر ګرد (تول) احکام او آثار په ظاهر جاری وی کما هو الظاهر. واضح دی وی څه شیان چه مونږ وښکل او هغه مثالونه چه مو وړاندی کړل له هغوی څخه مقصود محض تسهیل او تقریب الی الفهم دی که نه داسی کوم مثال پیدا کیدی شی چه پر دغو غیبیهؤ حقائقو په پوره ډول (طریقه) سره منطبق شی.

پاک الله! ته بهر ئی له اوهامو او له تولو قال ؤ قیله
خاوری دی په سر شی دا څما په دی خیال ؤ دی تمثیله.

پاتی شوه دغه مسئله چه روح جوهر مجرد دی لکه چه د اکثرو قدیمی حکماؤ او د صوفیه ؤ مذهب دی یا نورانی جسم دی لکه چه د اهل الحدیث د جمهورو او نورو رأیه ده په دغه کښی څما په نزد فیصل قول همغه دی چه بقیة السلف بحر العلوم علامه سید انور شاه صاحب اطال الله بقاءه فرمائی چه د عارف جامی په الفاظو کښی دلته دری شیان دی:

(۱) هغه جواهر چه په هغه کښی ماده او کمیت دواړه وی. لکه څمونږ مادیه ابدان.
(۲) جواهر چه ماده پکښی نشته او صرف کمیت دی چه هغه ته صوفیه (مثالیه اجسام) وائی.
(۳) هغه جواهر چه له مادی او کمیته له دواړو څخه تش وی چه هغه ته صوفیه ارواح او حکماء ئی د مجرده ؤ جواهرو په نامه سره یادوی.

د اهل الشرع جمهور هغه ته چه (روح) وائی هغه د صوفیه ؤ په نزد په «مثالی بدن» سره موسوم دی چه په مادی بدن کښی حلول کوی او د مادی بدن په شان سترګی، غوږونه، پوزه. لاسونه، پښی او نور اعضاء لری دغه روح له دی بدن څخه له سره نه بیلیږی او د بیلتون په وقت کښی هم یو راز (قسم) مجهول الکیفیت علاقه له بدن سره ساتلی شی چه د هغه په وسیله بیخی د موت حالت نه طاری کیږی او د حیات د بقاء سبب ګرځی ګواکی د حضرت علی کرم الله وجهه له قول سره چه «بغوی رحمة الله علیه» ئی د ﴿ اَللّٰهُ یَتَوَفَّى الْاَنْفُسَ حِیْنَ مَوْتِهَا ﴾ په تفسیر کښی نقل کری دی په دغه وقت کښی روح پخپله بیل دی مګر د هغه شعاع جسد ته رسیږی او د حیات د بقاء سبب ګرځی لکه چه لمر له ملیاردو میلینو څخه لری د اشعه ؤ (پلوشو) په وسیله څمکه تودوی لکه چه می په نننی اخبار کښی یو داسی خبر ولوست چه «د فرانس فضائی اداره بی له طیاره‌وانانو پخپل سر طیاری الوځولی دی او په دغه مورد کښی څه مخفی تجارب ئی کری دی چه تری دیر تعجب راوړونکی نتائج خرګند (ښکاره) شوی دی. بله اطلاع رارسیدلی ده چه په دغو ورځو کښی یو خاص رقم بم غورځوونکی طیاره لیږلی شوی ده چه پری هیڅوک نه ؤ سور لیکن د برقی امواجو په ذریعه د مقصود تر منزل پوری ورسوله شوه په دغه طیاره کښی بمونه دک

ؤ چه پر هغو تاکلیو (مقرر کړی شوی) ځایونو وویشتلی شو او بیا بیرته مرکز ته راوستی شوه.»
دعوی کولی شی چه د بیسیمو برقی امواجو په ذریعه طیاری پخپل سر داسی مکمل او منظم کارونه اجراء کوی لکه چه د کوم طیاره والا په ذریعه انجام شوی وی. نن پرون په اروپا کښی کوم مجامع چه د ارواحو په نسبت تحقیقات کوی هغوی داسی مشاهدات کړی دی چه یوه روح په داسی حال کښی چه له جسم څخه علیٰحده ؤ او د روح پر ښه باندی د حمله کولو اثر د مادی جسم پر ښه ښکاره شو په هر حال هغه روح چه اهل الشرع ئی ثابتوی صوفیه هم له هغه څخه انکار نه لری، بلکه دوی علاوه پر دغه یو بل مجرد روح هم منی چه په هغه کښی هیڅ استحاله نشته بلکه که د دی مجرد روح دپاره بل کوم روح وی او بالاخر د دغه کثرت ګرده (توله) سلسله سره یو ځای شی او د (امر ربی) پر وحدت منتهی شی نو هیڅ د انکار ضرورت نشته. شیخ فرید الدین «عطار» په «منطق الطیر» کښی څرنګه ښه ویلی دی.

آ له ګردو (تولو) څخه لویه ! آ ږومبیه ته له تولو!
تول ستا دی ته ئی لوی الله له تولو !
سامو پته ده په ځان کښی ته ئی پټ ځمونږ په سا !
آی په پتو کښی تل پته! آ ځمونږ د ساؤ سا !

له پاس مذکور تقریر څخه دغه نتیجه لاس ته راځی چه په هر شی کښی چه په (کن) سره مخاطب شوی وی د حیات روح موندله کیږی، بیشکه زه هم داسی پوهیږم چه د هر مخلوق هری یوی نوعی ته د هغه له استعداد سره سم او موافق قوی یا ضعیف ژوندون رسیدلی دی یعنی د هغه کار دپاره چه پیدا کړی شوی دی قالب ئی تیار کړی هغه ته ئی داسی حکم ورکاوه چه (کن) یعنی په دغه کار کښی لګیا شه! بس هم دغه ئی روح دی. تر هغه پوری چه دغه د خپل ایجاد غرض پوره کوی ګواکی تر هغه پوری ژوندی ګڼلی کیږی او هومره چه له هغه څخه لری او معطل کیږی په همغه اندازه موت ته نژدی یا مړ ویلی شی.
هذا ما عندی. وعند الناس ما عندهم والله سبحانه وتعالیٰ هو الملهم للصواب

---

وَلَئِنْ شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ بِالَّذِيٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ بِهِۦ عَلَيْنَا وَكِيلًا ﴿٨٦﴾
إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۚ إِنَّ فَضْلَهُۥ كَانَ عَلَيْكَ كَبِيرًا ﴿٨٧﴾

---

او که اراده وفرمایو مونږ نو خامخا بیرته به یوسو هغه څیز چه وحی کړی ده مونږ تاته (یعنی قرآن له سینو او له صفحو) بیا به نه مومی ته خپل ځان ته په دی کار کښی پر مونږ کوم وکیل (کفیل چه بیرته ئی دروړی) لیکن

(پری مو ښود دا قرآن له جهته د) رحمت له جانبه د رب ستا ، بیشکه فضل د دغه (الله) دی پر تا ډیر لوی.

**تفسیر :** (چه ته ئی سردار کری د تمامو بنی آدمو او خاتم د انبیاؤ. او بل بیرغ د حمد او مقام محمود ئی هم) تاته درکړی دی او بل ئی دغه قرآن کریم درته درکړی دی او بیا تر قیامت ئی ستا په امت کښی باقی پریښی دی یعنی د لوی قرآن علم چه پاک الله تاته درکړی دی که الله تعالیٰ اراده وفرمائی او د لږ څه مودی له مخی هغه در څخه واخلی. نو بیا به ئی بل څوک نشی درکولی، لیکن د الله تعالیٰ مهربانی پر تاسی ډیره زیاته ده نو ځکه ئی دغه لوی نعمت در عنایت فرمایلی دی او هیڅ وجه او دلیل په لاس کښی نشته چه هغه در څخه بیرته واخلی او یواځی د عظیمه قدرت اظهار مقصود دی. او هومره چه کامل روح وی خو بیا د هغه ګرد (تول) کمالات موهوب او مستعار دی او ذاتی نه دی.

قُلْ لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْاِنْسُ وَالْجِنُّ عَلٰٓى اَنْ يَّاْتُوْا بِمِثْلِ هٰذَا الْقُرْاٰنِ لَا يَاْتُوْنَ بِمِثْلِهٖ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيْرًا ﴿۸۸﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) خامخا که یو ځای (راټول) شی (ګرد) انسانان او (ګرد) پیریان په دی چه راوړی په شان د دی قرآن (په فصاحت بلاغت او درایت کښی) نو رابه نه وړی په شان د دی (قرآن) اګر که شی ځینی د دوی له ځینو نورو سره ملاتړی (او مرستیان).

**تفسیر :** د لوی قرآن د اعجازو په متعلق په متعددو مواضعو کښی کلام شوی دی. او پر دغه موضوع کښی ځمونږ مستقله رساله «اعجاز القرآن» هم چاپ شوی ده هغه دی ولوستله شی.

وَلَقَدْ صَرَّفْنَا لِلنَّاسِ فِىْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ فَاَبٰٓى اَكْثَرُ النَّاسِ اِلَّا كُفُوْرًا ﴿۸۹﴾

او خامخا په تحقیق مکرر بیان کړی دی مونږ خلقو ته په دی قرآن کښی (مثل) له هر قسمه مثاله (لکه ترغیب ترهیب قصص او اخبار چه عبرت پری واخلی) نو غاړه کینښوده اکثرو خلقو (او راضی نشول په هیڅ) مګر په

ناشکری (او انکار له حقه).

**تفسیر :** یعنی د دوی د خیر غوښتلو دپاره عجیب او غریب مضامین څو څو ځلی په مختلفو اسالیبو او په قسم قسم عناوینو بیان کړل شول لیکن اکثرو احمقانو د هغه قدر ونه کړ او د احسان منلو په ځای د هغه پر ناشکری ګردو (تولو) سره لاس یو کړ.

وَقَالُوا لَن نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّىٰ تَفْجُرَ لَنَا مِنَ الْأَرْضِ يَنبُوعًا ﴿٩٠﴾ أَوْ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٌ مِّن نَّخِيلٍ وَعِنَبٍ فَتُفَجِّرَ الْأَنْهَارَ خِلَالَهَا تَفْجِيرًا ﴿٩١﴾ أَوْ تُسْقِطَ السَّمَاءَ كَمَا زَعَمْتَ عَلَيْنَا كِسَفًا أَوْ تَأْتِيَ بِاللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ قَبِيلًا ﴿٩٢﴾ أَوْ يَكُونَ لَكَ بَيْتٌ مِّن زُخْرُفٍ أَوْ تَرْقَىٰ فِي السَّمَاءِ وَلَن نُّؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتَّىٰ تُنَزِّلَ عَلَيْنَا كِتَابًا نَّقْرَؤُهُ

او وائی (قریش) له سره به ایمان رانه وړو په تا (ای محمده !) تر هغه پوری چه جاری کړی ته (وباسی) مونږ ته له ځمکی (د مکی تل بهیدونکی خوتیدونکی) چینه (چه تل د که وی له اوبو او له سره نه وچیږی) یا چه وی تاته یو باغ له خرماؤ او انګورو نو روانی کړی ته ویالی په منځ د دی باغ کښی په روانولو سره، یا چه راوغورځوی ته آسمان لکه چه ګمان کوی ته پر مونږ باندی توتی توتی یا چه راولی ته الله او پرښتی مخامخ (ښکاره چه ئی ووینو) یا چه وی تاته یو کور له سرو زرو ( یا ملمع په سرو زرو چه پکښی کینی) یا چه پورته وخیژی په آسمان کښی، او له سره به ایمان رانه وړو په (تش) ختلو ستا ) آسمان ته که چیری وخیژی) تر هغه پوری چه راکوز کړی پر مونږ باندی داسی یو کتاب چه لولو ئی (او تصدیق ستا وی پکښی)،

**تفسیر :** کله چه کفار د لوی قرآن له اعجازه عاجز شول نو په داسی لری له مقصده فرمائشونو ئی لاس پوری کړ. ځکه چه د دوی دغه عرض لپاره د استفادی او انتفاع نه ؤ او محض تعنت او عناد د هغوی مقصود ؤ.

په ﴿ تُسْقِطَ السَّمَاءَ ﴾ کښی هغه طرف ته اشاره ده چه د «السباء» د سورت په (۱) رکوع کښی

داسی ارشاد شوی دی ﴿ اِنْ نَّشَاْ نَخْسِفْ بِهِمُ الْاَرْضَ اَوْ نُسْقِطْ عَلَيْهِمْ كِسَفًا مِّنَ السَّمَآءِ ﴾
الغرض چه کفارو به تل هم داسی چتی (بیکاره) خبری کولی چه مونږ به له سره ایمان رانه وړو په تا او غاړه به درته کښینږدو تر هغه پوری چه راوختکوی ته مونږ ته له ځمکی د مکی چینه، یا چه پیدا شی تاته کوم باغ جامع د ګردو (تولو) صفاتو یا چه وغورځوی پر مونږ باندی د آسمان توتی یا راولی ته الله او پرښتی مخامخ ښکاره چه وئی وینو (او ستا دپاره ضامنان شی) یعنی که معاذ الله په خپله لوی الله له مونږ سره مقابل شی او دغسی ووائی او پرښتی هم علی رءوس الاشهاد شاهدی ولولی چه تاسی رښتین ئی. (یا چه وی تاته یو کور له سرو زرو یا ملمع وی د سرو زرو په اوبو سره چه ته پکښی کینی) یعنی که د سرو زرو څخه نه وی نو لږ تر لږه د سرو زرو په اوبو سره دی خو ملمع وی. (یا چه پورته وخیژی په آسمان کښی او له سره به ایمان رانه وړو په تش ختلو ستا آسمان ته که چیری وخیژی تر هغه پوری چه راکوز کړی پر مونږ باندی داسی یو کتاب چه لولو ئی) یعنی لکه چه تاسی د معراج ذکر کوئ نو ځمونږ په مخ کښی آسمان ته وخیژئ! او له هغه ځایه یو لیکلی شوی کتاب له خپله ځانه سره راوړئ چه مونږ ئی پخپله ولوستی شو او پری وپوهیدی شو.

---

قُلْ سُبْحَانَ رَبِّیْ هَلْ كُنْتُ اِلَّا بَشَرًا رَّسُوْلًا ﴿٩٣﴾ وَمَا مَنَعَ النَّاسَ اَنْ يُّؤْمِنُوْا اِذْ جَآءَهُمُ الْهُدٰٓى اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا اَبَعَثَ اللّٰهُ بَشَرًا رَّسُوْلًا ﴿٩٤﴾

---

ووایه (ای محمده! دوی ته) پاکی ده رب ځما ته آیا یم زه (یعنی نه یم زه) مګر یو انسان رالیږلی شوی (په شان د نورو رسولانو). او نه دی منع کړی دی خلقو لره له دی نه چه ایمان راوړی کله چه راغی دوی ته بیان د حق (په ژبه د رسول) مګر (منع کړی دی خلق) دی خبری چه ویلی به دوی آیا رالیږلی دی الله یو سړی رسول (او پرښته ئی ولی نه رالیږله).

---

**تفسیر:** یعنی سره د هدایت د رڼا د رسیدلو د دوی سترګی خلاصی نشوی او در ګرده (توله) به ئی هم دا ویل چه آدم څرنګه د الله تعالیٰ رسول کیدی شی؟ که پاک الله نبی لیږه نو له آسمانه به ئی کومه پرښته راښکته کوله.

---

قُلْ لَّوْ كَانَ فِى الْاَرْضِ مَلٰٓئِكَةٌ يَّمْشُوْنَ مُطْمَئِنِّيْنَ لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَلَكًا رَّسُوْلًا ﴿٩٥﴾

ووایه (ای محمده! دوی ته) که چیری وی په ځمکه کښې پرښتي (په بدل د انسان) چه ګرځیدلی په آرام سره (په شان د انسانانو) نو خامخا رالیږلی به وه مونږ پر دوی باندې له آسمانه یوه پرښته رسول.

**تفسیر :** یعنی که دغه ځمکه د بنی آدمانو په ځای د پرښتو کلي او د هستوګنی ځای وی نو بیشکه موزون به وی چه مونږ کوم پرښته نبی ګرځولی او لیږلی وی که د بنی آدمانو په طرف پرښته خپل اصلي صورت سره ولیږله شي نو زړونه او سترګی له سره د هغې د لیدلو توان نه لری نو له هغه څخه به څرنګه مستفید کیدی شوی او که د بنی آدمانو په صورت راشي نو خلق به په اشتباه کښې لویږی دغه تقریر د «الانعام» د سورت په اوله رکوع کښې تیر شوی دی. هغه دی ولوست شي!

جنس له خپله جنسه آخلی انتفاع

د بد جنسو مشغولا وی تل ضیاع

که وینا وی د توتا که د مینا

لاغ ئی شمیری هغه څوک چه وی بومیا

قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًاۢ بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ۭ اِنَّهٗ كَانَ بِعِبَادِهٖ خَبِيْرًاۢ بَصِيْرًا ۝۹۶

ووایه (ای محمده! دوی ته) کافی دی الله شاهد (حق ثابتوونکی) په منځ ځما او په منځ ستاسی کښې، بیشکه چه الله دی په بندګانو خپلو ښه خبردار (په بواطنو) ښه لیدونکی (په ظواهرو د دوی).

**تفسیر :** هغو کسانو چه داسی به ئی ویل ﴿ اَوْ تَاْتِيَ بِاللّٰهِ وَالْمَلٰۗىِٕكَةِ قَبِيْلًا ﴾ یعنی که الله له مونږ سره مخامخ شي او ځما تصدیق وکړی نو هله به یی ومنو نو ئی وفرمایل چه الله اوس هم پخپل فعل سره ځما تصدیق کوی ځکه چه هغه علیم او خبیر دی او ګوری چه زه د نبوت وظایف انجاموم او ځما له هغو ګردو (ټولو) مصائبو څخه چه ئی تیروم او له هغو مساعیو څخه چه په پټه او ښکاره ئی کوم پوره خبردار دی. او سره له هغه دی له ماسره مرستی (مدد) کوی. او ځما په لاس او ژبه متمادیاً داسی علمي او عملی نښې ښکاروی چه خارق العاده او د ده د عمومی قدرتی قانون څخه ډیر لوړ او عالی دی. هغه ځما مقصد یوماً فیوماً کامیاب بریالی (کامران) او وسیع‌الاثر ګرځوی او تکذیب کوونکی ته قدم په قدم تنبیه ورکوی چه په دی عمل سره بیخی تاسی فلاح نشئ موندلی آیا دغه د الله تعالیٰ له جانبه فعلی ښکاره شهادت نه دی؟ چه زه په دغه خپله دعوی کښې صادق یم؟ آیا له یوه مفتری سره پاک الله هم داسی معاونت او مرستی (مدد) کوی؟.

وَمَن يَهْدِ اللَّهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِ ۖ وَمَن يُضْلِلْ فَلَن تَجِدَ لَهُمْ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِهِ ۖ

او هر هغه چاته چه سمه لیاره وښودله الله نو همغه د سمی لیاری موندونکی دی، او هر څوک چه ئی ګمراه کړی (الله) نو له سره به نه مومی ته دوی ته نور دوستان بی له دغه (الله څخه چه سمه لیاره وروښیی)،

**تفسیر** : یعنی هم دا د الله تعالیٰ په توفیق او لاس نیونه سره انسان د حق په لیاره تلی شی او د مقصود تر منزله پوری رسیدی شی. که پاک الله د چا لاس نیونه د ده د بدبختی او تعنت له سببه ونه فرمائی نو کوم سړی به ئی په سمه لویه لیار کښی بیولی شی؟.

وَنَحْشُرُهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ عُمْيًا وَبُكْمًا وَصُمًّا ۖ مَّأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ ۖ كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنَاهُمْ سَعِيرًا ﴿٩٧﴾

او راجمع به کړو (مونږ) دوی لره په ورځ د قیامت کښی (نسکور تلونکی په سبب د بدو عملونو د دوی) پر مخونو خپلو چه ړانده او ګونګیان به وی او کانه به وی (په سبب د بدو اعمالو خپلو) ځای د دوی به دوزخ وی، هر کله چه غلی شی (لمبی د دوزخ) زیات به کړو دوی ته تیز اور.

**تفسیر** : یعنی د قیامت په ځینو مواطنو کښی به کفار پر خپلو مخونو نسکور ړانده او ګونګیان او کانه کړی شوی بیولی کیږی. په حدیث کښی راغلی دی چه لویو اصحابو عرض وکړه چه یا رسول الله دوی به څرنګه په خپلو مخونو نسکور بیولی کیږی. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل هغه قادر مطلق ئی چه په پښو بیولی شی همغه قادر دی چه په سر ئی هم روان کړی. پاتی شو دوزخیانو سر پ ځیری کشول (راښکل)، نو هغه به وروسته د دوزخ د داخلیدلو څخه وی ﴿يَوْمَ يُسْحَبُونَ فِي النَّارِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ ذُوقُوا مَسَّ سَقَرَ﴾ ۲۷ جزء د القمر (۴۸) آیة (۳) رکوع).
﴿مَّأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ﴾ ځای د دوی به دوزخ وی هر کله چه غلی شی لمبی د دوزخ زیات به کړو دوی ته اور تیز) یعنی نه پریږدی چه له معینی اندازی څخه عذاب کم شی، که د دوی بدن وسوځیږی او د دوی په تکلیف کښی څه تقلیل محسوس شی سم د لاسه به پوستکی ورشین کیږی ﴿كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُم بَدَّلْنَاهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا﴾ جزء ٥ (د النساء ٥٦ آیت ٨ رکوع د دغه مقدس تفسیر او هر کله چه د دوزخ د اور لمبه لږه کینی نو ژر تر ژره د دوی لمبه بیا بلیږی او اور ئی بیرته تیزیږی.

ذٰلِكَ جَزَآؤُهُمْ بِأَنَّهُمْ كَفَرُوا بِاٰيٰتِنَا وَقَالُوٓا
ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا وَّرُفَاتًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ خَلْقًا جَدِيْدًا ﴿٩٨﴾

دا (عذاب) جزاء د دوی ده په سبب د دی چه بیشکه دوی کافران شوی وو په آیتونو ځمونږ او ویل به دوی آیا کله چه شو مونږ هدوکی او خاوری ریژیدلی آیا مونږ خامخا بیا پورته کاوه شو په پیدایښت نوی سره.

**تفسیر :** یعنی خامخا په دنیا کښی په دلیل سره خو دوی دغه خبره نه منله اوس دی پخپلو سترګو سره وګوری چه څرنګه سوځیږی او بیا له سره پوستکی ورتیاریږی.

اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ قَادِرٌ عَلٰٓى
اَنْ يَّخْلُقَ مِثْلَهُمْ وَجَعَلَ لَهُمْ اَجَلًا لَّا رَيْبَ فِيْهِ ۚ فَاَبَى الظّٰلِمُوْنَ اِلَّا كُفُوْرًا ﴿٩٩﴾

آیا نه ګوری دوی (او نه دی خبر په دغه) چه بیشکه هغه الله چه (په خپل کامله قدرت سره) ئی پیدا کری دی آسمانونه او ځمکه (او مابینهما) قادر دی پر دی چه پیدا کری په مثل د دوی (نور ډیر) او مقرر کری ئی دی دوی ته یو اجل (نیته) چه نشته هیڅ شک په هغه کښی نو منعه راوړه (او ونه منله) ظالمانو (هیڅ شی) مګر ناشکری (او انکار له بعثه او حشره).

**تفسیر :** یعنی هغه لوی ذات چه دومره لوی اجسام ئی پیدا کری دی نو آیا هغه ته ستاسی په شان د یوه وړوکی شی پیدا کول څه اشکال لری؟ ﴿لَخَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ اَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ النَّاسِ﴾ (۲٤ جزء د المؤمن (۵۷) آیة (٦) رکوع) بیشکه چه الله تعالیٰ تاسی او نور ګرد (تول) انسانان بی تکلیف پیدا کولی شی (او مقرر کری ئی دی دوی ته یو اجل چه نشته هیڅ شک په هغه کښی) یعنی ښائی داسی به وائی چه آخر دومره سری چه ګرد (تول) سره مره شوی دی هغوی به اوس څرنګه بیا ژوندی کیږی؟ نو ځکه فرمائی چه دا ګردو (تولو) دپاره له قبرونو څخه د پاڅیدلو او د بیا ژوندی کیدلو دپاره یو وقت مقرر دی چه هغه ضرور راتلونکی دی. د دغه تاخیر د لیدلو څخه د هغه انکار حماقت دی ﴿وَمَا نُؤَخِّرُهٗٓ اِلَّا لِاَجَلٍ مَّعْدُوْدٍ﴾ د هود (۹) رکوع (نو منعه راوړه او ونه منل ظالمانو هیڅ شی مګر ناشکری او انکار له بعثه او حشره) یعنی سره د دومره واضحهؤ مضامینو او دلائلو د اوریدلو سره هم د دی بی انصافانو په کفر او ضلال او ناشکری کښی همغه ترقی او پرمختګ لیدل کیږی او لږ څه هم په لیاره نه راځی.

قُلْ لَّوْ اَنْتُمْ تَمْلِكُوْنَ خَزَآئِنَ رَحْمَةِ رَبِّیْٓ اِذًا لَّاَمْسَكْتُمْ خَشْيَةَ الْاِنْفَاقِ ؕ وَكَانَ الْاِنْسَانُ قَتُوْرًا ﴿۱۰۰﴾ ع

ووایه (ای محمده ! دوی ته) که چیری تاسی مالکان شئ د خزانو د رحمت د رب ځما نو په دغه وقت کښی هرومرو (خامخا) منع به راوړئ (بخل به کوئ له صدقاتو) د ویری د (خلاصیدلو د مال په) انفاق (کښی)، او دی انسان زړه تنګ (پخیل جمع کوونکی).

**تفسیر** : په تیره رکوع کښی ئی فرمایلی ؤ ﴿ اِلَّا رَحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ ؕ اِنَّ فَضْلَهٗ كَانَ عَلَيْكَ كَبِيْرًا قُلْ لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْاِنْسُ وَالْجِنُّ عَلٰٓى اَنْ يَّاْتُوْا بِمِثْلِ هٰذَا الْقُرْاٰنِ ﴾ الآیة - الله تعالیٰ پخپل رحمت پر تاسی لوی فضل کړی دی چه د قرآن په شان یو بیمثاله دولت ئی عطاء فرمایلی دی.» په منځ کښی ئی د مخالفینو د تعنت او عناد او له کاره وتلی مطالبات، اعراض او تکذیب او د هغو د نتائجو ذکر وکړ. دلته بیا د همغه پخوانی مضمون په طرف عود کړی شوی دی. یعنی یوه بنده ته داسی عظیم‌الشان رحمت او عدیم‌النظیر دولت وربښل د همغه حقیقی جواد او مطلق وهاب له شأنه شخه کیدی شی چه د هغه سره د غیر متناهی رحمت خزانی دی او کوم مستحق ته زیات شخه په زیات ورکولو کښی نه ده ته د فقر او مسکنت ویره پیدا کیږی او نه د دی خبری اندیښنه ورته پیښیدی شی چه هغه بل به ځما په ورکړه او امداد ځما مقابل او مخامخ شی، یا وروسته د دی امداد د هغه لاس به پر ما پورته او زه به تری ښکته شم. الله قدوس د تنګ زړه او داریدونکی انسان په شان العیاذ بالله تنګ زړه نه دی، چه که هغه د رحمت د خزانی مختار مالک وګرځولی شی خو بیا د ده له طبیعت شخه بخل او تنګ‌زړه‌توب نه ځی. او د کوم یو مستحق د ورکړی شخه دومره ویریږی چه ځما ګرد (تول) شته او ثروت به پکښی صرف شی او زه به تش لاس په میدان کښی پاتی شم یا خپل مال چه زه نن پر هغه لګوم نه چه هغه صبا ورځ ځما سیال او شریک یا له ما شخه زیات ښاغلی شی په هر حال که د الٰهیه رحمت خزانی ستاسی په قبضه کښی وی نو تاسی به هیچا ته هیڅ شی نه ورکول او کله مو پر دغه پیرزو کیده چه د مکی معظمی او د (طائف) د غتانو شخه پرته (علاوه) د وحی او نبوت دغه ډیر قیمتداره دولت د «بنی هاشم» یو دریتیم ته ورسیږی، دغه د الله تعالیٰ فیض دی چه په هر چا کښی چه هر ډول (قسم) استعداد او قابلیت وګوری د هغه سره مناسب د کمالاتو او انعاماتو ډکی یکی خزانی ورکوی ستاسی د دغه تعنت او تعصب شخه د الله تعالیٰ فضل منع کیدونکی نه دی د محمد صلی الله علیه وسلم په برکت هغه خزائن چه د دوی اتباعو ته رسیدونکی دی هغه به خامخا وررسیږی. او د محمد صلی الله علیه وسلم اتباع به هغه دولت په ډیر ارت زړه د انسانی په بنی‌نوع ئی لګوی او ستاسی په شان به په هغه کښی خپل بخل او امساک او زړه تنګی نه ښکاره وی.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسٰى تِسْعَ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ فَسْـَٔلْ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اِذْ جَآءَهُمْ فَقَالَ لَهٗ فِرْعَوْنُ اِنِّيْ لَاَظُنُّكَ يٰمُوْسٰى مَسْحُوْرًا ﴿۱۰۱﴾

او البته په تحقیق ورکړی دی مونږ موسیٰ ته نهه معجزی ښکاره نو پوښتنه وکړه (ای محمده! له علماؤ) د بنی اسرائیلو څخه کله چه راغی (موسیٰ) دوی ته نو وویل دغه (موسیٰ) ته فرعون بیشکه زه گمان کوم پر تا ای موسیٰ د سحر کړی شوی.

**تفسیر :** یعنی همغسی چه پاک الله تاسی ته ای محمده صلی الله علیه وسلم پخپل فصل او رحمت سره عظیم قرآن عنایت کړی دی او نور ډیر مراحم ئی هم پر تا مبذول فرمایلی دی. هم داسی مونږ پخوا له دی نه موسیٰ علیه السلام ته له ښکاره نښی او معجزی د ده د حاله سره مناسب عنایت فرمایلی دی څه وخت چه ده بنی‌اسرائیلو ته د فرعون له ظلمونو څخه د نجات بښلو دپاره تشریف راوړی وو. که ئی غواړی نو د بنی‌اسرائیلو د باخبره او منصف مزاجه علماؤ څخه پښتنه وکړه او وئی گوره چه تر کومه ځایه پوری صحیح دی.
**تنبیه :** هغه نهه معجزی دا دی: ید بیضاء، عصا، سنین، نقص الثمرات، طوفان، جراد، قمل، ضفادع، دم (په ځینو تفاسیرو کښی د طوفان، قحط، او د نقص الثمرات په ځای حجر. بحر او رفع الطور راغلی دی) د الاعراف د «سورت په ۱۶ رکوع څمونږ د دغه فوائد موضح القرآن » د ﴿ فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الطُّوْفَانَ وَالْجَرَادَ ﴾ الآیة ـ په تفاسیرو کښی مو د هغه تفصیل لیکلی دی هلته دی وکوت شی.
په مسند احمد شریف او ترمذی شریف او نورو کښی په یوه حدیث کښی دی چه یهودانو څمونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د تسع ایات په متعلق سؤال وکړ وی وفرمایل:
هغه احکام دا دی : شرک مکوئ! غلا مه کوئ! زنا مه کوئ! ناحقه وینه مه تویوئ! جادو مه کوئ! سود مه خورئ بی گناه مه نیسئ چه حاکم یی قتل کړی پر عفیفهؤ ښځو تهمت مه لګوئ له جهاده مه تښتئ! نهه حکمونه خو دغه شول چه د هغو مخاطب تول کیدی شی لسم حکم (ای یهودانو!) تاسی ته مخصوص ؤ چه د شنبی په ورځی له حده مه تیریږئ! یهوادنو! د دغو خبرو د اوریدلو څخه څمونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم تصدیق وکړ.
حافظ عماد الدین رحمة الله علیه ابن کثیر لیکی چه په دغه حدیث کښی «نکارت» دی چه غالباً د هغه راوی عبد الله بن سلمه له خوا دی د لوی قرآن نظم او سیاق له سره هغسی نه غواړی چه ﴿ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسٰى تِسْعَ اٰيٰتٍ ﴾ الآیة ـ څخه مراد دغه نهه احکام واخیست شی. وروسته د فرعون او د موسیٰ مکالمه چه له (فقال له) څخه نقل فرمایلی دی داسی اقتضا ـ لری چه له « آیات» څخه هغه معجزی او

نښي مراد وي چه د دلائلو، حججو په شان فرعونیانو ته ورښوولي شوي وي لکه چه د «بصائر» لفظ هم له هغه سره ډیر ښه لګیږي او له پخوا څخه د مکیانو د تعنت او د آیت د طلب کولو کوم ذکر چه راغلي دی له هغه سره هم مناسب هم دا دی چه دلته د فرعونیانو د کونیه ؤ آیاتونو په متعلق ورښوول شي. په هر حال د ابن کثیر رحمة الله علیه خیال دا دی چه یهودانو د «تسع آیات» په نسبت نه، بلکه د هغو لسو کلماتو په نسبت به سؤال کړی وي چه د توریت په مبداء کښې د وصایاؤ په ډول (طریقه) لیکل کیده لکه چه په حدیث کښې هم هغه لس شیان بیان شوي دي. د حدیث راوي ته التباس او اشتباه واقع شوي ده او د «عشر کلمات» په ځای «تسع آیات» ئې ذکر کړی دی او امکان لري چه سؤال له «تسع آیات» څخه شوي وي لیکن دوی جواب علی اسلوب الحکیم ورکړی وي. ګواکې تنبیه ئې فرمایلې ده چه د نهو معجزو معلومول ستاسي په حق کښې دومره مفید او مهم نه دي بلکه د دغو لسو احکامو یادول او پرې عمل کول زیات ګټور، زیات فائده من او اهم دي. والله اعلم.

﴿ فَقَالَ لَهُ فِرْعَوْنُ ﴾ الآیة - نو وویل فرعون موسیٰ ته بیشکه زه ګمان کوم پر تا ای موسیٰ د سحر کړی شوي) یعني پر تا چا جادو کړی دی چه له هغه څخه معاذ الله ستا عقل خراب شوي دی نو ځکه چتې (بیکاره) خبرې کوې. په بل ځای کښې راغلي دي ﴿ إِنَّ رَسُولَكُمُ الَّذِىٓ أُرْسِلَ إِلَيْكُمْ لَمَجْنُونٌ ﴾ (١٩ جزء د الشعراء (٢٧) آیة (٢) رکوع) ګواکې له «مسحور» څخه مراد «مجنون» دی او ځیني له «مسحور» څخه «ساحر» مرادوي. والله اعلم.

---

قَالَ لَقَدْ عَلِمْتَ مَآ أَنزَلَ هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ بَصَآئِرَ وَإِنِّى لَأَظُنُّكَ يَٰفِرْعَوْنُ مَثْبُورًا ﴿١٠٢﴾

---

وویل (موسیٰ بیا) خامخا په تحقیق پوهیږې (ته پخپل زړه) چه نه دي نازل کړي دغه (نهه معجزې هیڅوا) مګر رب د آسمانونو او (رب) د ځمکې معجزې ښکاره (چه هر یوه دلالت کوي په نبوت ځما)، او په تحقیق زه خامخا ګمان کوم پر تا ای فرعونه د هلاک شوي (مغلوب کم عقله).

---

**تفسیر :** یعني اګر که ستا ژبه انکار کوي مګر ستا زړه ډیر ښه پوهیږي چه دغه عظیم‌الشان نښان ستا د سترګو د خلاصولو دپاره همغه قادر او قاهر الله درښودلي دي چه د آسمان او د ځمکې حقیقي مالک دی. اوس که کوم سړی عمداً محض د ظلم او تکبر د لیاري له حقه انکار وکړي د هغه په نسبت به پرته (علاوه) له دې نه څه خیال کاوه شي چه د ده د تباهۍ وقت پر سر رسیدلی دی. له دې نه معلوم شو چه ایمان د پوهیدلو نوم نه بلکه د منلو نوم دی ﴿ وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَآ أَنفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا ﴾ ١٩ جزء د النمل (١٤) آیة اوله رکوع).

فَاَرَادَ اَنْ يَّسْتَفِزَّهُمْ مِّنَ الْاَرْضِ فَاَغْرَقْنٰهُ وَمَنْ مَّعَهٗ جَمِيْعًا ﴿۱۰۳﴾

نو اراده وکړه (فرعون) د دی چه وخوځوی او آرام پرېږدی او لری کړی دوی له ځمکی (د مصر) نو ډوب مو کړ فرعون او هر هغه څوک چه له ده سره وو ټول.

**تفسیر** : کله چه فرعون ولید چه ورځ په ورځ د موسیٰ علیه السلام اثر زیاتیږی نو داسی اندیښنه ور پیدا شوه چه بنی‌اسرائیل چیری زور او قوت ونه نیسی. نو ځکه ئی د هغوی په زیات ربړولو (تکلیف کولو) شروع وکړه او داسی ئی مقرره کړه چه دوی په مصر کښی په امن او راحت سره ژوندون ونه کړی شی. خو بالاخر مونږ هم دغه فرعون او فرعونیان پری نښودل او د قلزم په بحیره کښی مو ګرد (ټول) هغه ظالمان ډوب کړل.

وَّقُلْنَا مِنْۢ بَعْدِهٖ لِبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اسْكُنُوا
الْاَرْضَ فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ الْاٰخِرَةِ جِئْنَا بِكُمْ لَفِيْفًا ﴿۱۰۴﴾

او ومو ویل وروسته (د غرق) د فرعون بنی اسرائیلو (اولادی د یعقوب) ته چه اوسیږئ تاسی (اوس په دی) ځمکه (د مصر) کښی نو کله چه راشی وعده د آخرت (یعنی قیامت) نو به راولو تاسی (سبطیان او قبطیان په محشر کښی حساب ته یو ځای) ګډوډ ،.

**تفسیر** : یعنی پاک الله د ظالمانو بیخ او بکر ویست او تاسی ته ئی د هغوی د مرئیتوبه نجات درکړ، اوس (مصر) ته (یا شام) هر چیرته مو چه زړه غواړی په ډیر آزادی او هوسائی (ارام) سره تلی شئ. کله چه قیامت راشی بیا به یو ځلی تاسی او ستاسی تباه شوی دښمنان سره یو ځای کوو. او هلته به د شقی او سعید او هالک او ناجی دائمی فیصله صادریږی.

وَبِالْحَقِّ اَنْزَلْنٰهُ وَبِالْحَقِّ نَزَلَ ؕ

او په حقه سره نازل کړی مو دی دغه (قرآن) او په حقه سره نازل شوی دی (او له اوله او تر آخره محفوظ دی).

**تفسیر :** د موسیٰ علیه السلام د معجزاتو او نورو خبرو د ذکر کولو څخه وروسته بیا د کلام مخ ئی د لوی قرآن په لوری وگرځاوه. یعنی موسوی معجزات پر خپل ځای پریږدئ لیکن هغه ښکاره معجزی چه محمد صلی الله علیه وسلم ته ورکړی شوی دی په هغو کښی له گردو (ټولو) څخه لویه علمی معجزه هم دغه عظیم‌الشان قرآن دی چه هغه مو سم له حکمته سره پخپل عظیم علم او په اعلیٰ درجه صداقت مشتمل کړی او لیږلی دی. او پوره په همغه صداقت سره تاسی ته رسیدلی دی او په منځ کښی ئی لږ څه تغیر او تبدیل هم نه دی واقع شوی:

﴿ فَاعْلَمُوٓا اَنَّمَآ اُنْزِلَ بِعِلْمِ اللّٰهِ وَاَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ﴾ جزء ۱۲ (د هود ۲ رکوع) ۱٤ آیت

---

وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا مُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ﴿۱۰۵﴾

---

او نه ئی لیږلی مونږ ته (ای محمده!) مگر زیری ورکوونکی (مؤمنانو ته په نعیم سره) او ویرووونکی (کافرانو ته په جحیم سره).

---

**تفسیر :** یعنی منونکی ته زیری او خوش خبری واوروه او منکرانو ته د الله تعالیٰ د عذاب ویره واوروه!.

---

وَقُرْاٰنًا فَرَقْنٰهُ لِتَقْرَاَهٗ عَلَى النَّاسِ عَلٰى مُكْثٍ وَّنَزَّلْنٰهُ تَنْزِيْلًا ﴿۱۰۶﴾

---

او قرآن نازل کړی دی مونږ هغه توته توته لپاره د دی چه ولولی ته (ای محمده!) دغه (قرآن) په خلقو باندی په آرام سره او نازل کړی دی مونږ دغه قرآن په نازلولو سره.

---

**تفسیر :** شیخ الهند د دی پاس آیت ترجمه لکه د ځینو نورو مفسرینو داسی کړی ده او (د لوستلو دپاره وظیفه کړی دی مونږ دغه قرآن چه بیل بیل نازل کړی دی مونږ (دغه قرآن) چه وئی لولی پر خلقو په آرام سره او نازل کړی مو دی دغه قرآن په نازلولو سره) د لوی قرآن له رالیږلو څخه اصلی مقصد د هغه پوهیدل او پری عمل کول دی چه هم دغه ته تدبر او تذکر وائی. لیکن د هغه تش الفاظ او حروف هم له نورانیت او برکته تش نه دی ﴿ كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ مُبٰرَكٌ لِّيَدَّبَّرُوٓا اٰيٰتِهٖ وَلِيَتَذَكَّرَ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴾ ((۲۳ جزء د ص (۲۹) آیة (۲) رکوع) نو ځکه د هغه سورتونه او آیتونه سره بیل بیل کړی شوی دی څو د وظیفی او تلاوت کولو په وقت کښی پوره تسهیلات وی او د ویونکی او آوریدونکی د علم، فهم، حفظ او نورو ته هم آسانی وی. او ورو ورو ئی ځکه رانازل کړ چه څرنگه حالات به راوړاندی کیده د هغه سره به مناسب احکام او هدایات صادریده څو هغه جماعت چه وروسته له دی نه د گردی (ټولی) دنیا معلمان او لیاره ښوونکی گرځیدل، د هر آیت او حکم

موقع او محل او نور خصوصیات هم په ښه شان سره په یاد وساتلی شی. او د راتلونکو نسلونو دپاره د کوم آیت د بی موقعه استعمالولو گنجایش نه وی پاتی.

قُلْ اٰمِنُوْا بِهٖٓ اَوْ لَا تُؤْمِنُوْا ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ مِنْ قَبْلِهٖٓ اِذَا يُتْلٰى عَلَيْهِمْ يَخِرُّوْنَ لِلْاَذْقَانِ سُجَّدًا ۙ﴿۱۰۷﴾ وَّيَقُوْلُوْنَ سُبْحٰنَ رَبِّنَآ اِنْ كَانَ وَعْدُ رَبِّنَا لَمَفْعُوْلًا ﴿۱۰۸﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) چه ایمان راوړئ په دی قرآن یا ایمان مه راوړئ بیشکه هغه کسان چه ورکړی شوی دی دوی ته علم پخوا له دغه (قرآنه) کله چه ولوستی شی پر دوی (دغه قرآن نو) نسکور پریوځی دوی (پر ځمکه) په زنو (وچولو (تندو) خپلو) په دی حال چه سجده کوونکی وی (تعظیماً و تشکراً) او وائی دوی پاکی ده رب ځمونږ ته (له خلافولو د وعدی خپلی) په تحقیق سره ده وعده د رب ځمونږ خامخا کیدونکی.

**تفسیر :** یعنی تاسی ئی منئ که ئی نه منئ د لوی قرآن د حقانیت او د رسول الله مبارک د رسالت تصدیق هغه منصف مزاجه اهل العلم کوی چه د پخوانیو سماویهؤ کتابونو د بشاراتو څخه خبرداره دی. دوی دغه پاک کلام د آوریدلو څخه پرمخی پر خپلو زنو سرونه په سجده پړدی او وائی سبحان الله دا څومره عجیب او غریب کلام دی، بیشکه د الله تعالیٰ هغه وعده پوره کیدونکی ده چه د موسیٰ علیه السلام په ژبه د توریت په کتاب استثناء کښی کړی شوی وه چه (ای بنی‌اسرائیلو زه به ستاسی په ورونو (بنی اسمٰعیل) کښی یو نبی مبعوث کوم چه د هغه په خوله کښی به خپل کلام اچوم بلاشبهه هغه هم دا کلام دی چه د محمد صلی الله علیه وسلم په مبارکه خوله کښی اچولی شوی دی. کله چه اهل العلم د قرآن د حقانیت تصدیق کوی نو اوس د جاهلانو له انکاره هغه ته هیڅ یو اعتراض نه دی متوجه.

وَيَخِرُّوْنَ لِلْاَذْقَانِ يَبْكُوْنَ وَيَزِيْدُهُمْ خُشُوْعًا ۩ ﴿۱۰۹﴾

او نسکور پریوځی دوی (پر ځمکه) په وچولو (تندو) خپلو چه ژاړی دوی (د الله له ویری) او زیاتوی دوی ته (اوریدل د قرآن) عاجزی.

**تفسیر :** یعنی کله چه پاک قرآن آوری پر دوی رقت طاری کیږی او په سجده لویږی او په تواضع

عجز او نیاز کښې تزئید کوي. کله چه سر په سجده پړدې نو لا د دوی د عجز او نیاز په مراتبو کښې تزئید پیدا کیږي د اذقان (زنو) په لفظ کښې ښائي دې طرف ته هم اشاره وي چه په سجود کښې زیاته مبالغه کوي. ګواکې خپلې زنې هم پر ځمکه لګوي. یا به دغه محض د سجود علی الوجه څخه کنایه وي والله اعلم.

قُلِ ادْعُوا اللّٰهَ اَوِ ادْعُوا الرَّحْمٰنَ ؕ اَیًّا مَّا تَدْعُوْا فَلَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰی ۚ

ووایه (ای محمده! دوی ته) وبولئ تاسي الله یا وبولئ تاسي رحمٰن، هر یو نوم ئې چه وبولئ (او واخلئ تاسي پس هغه ښه دی) نو ده لره دي نومونه ډیر ښه.

**تفسیر** : د سجود او خشوع او نورو په مناسبت دلته د دعاء (د الله د بللې) او د دعاء په مناسبت په وروستنۍ آیت کښې د صلوٰة ذکر کړی شوی دی. واقعه دا ده چه د الله تعالیٰ له نومونو څخه د عربو مشرکینو په نزد د الله استعمال ډیر زیات ؤ او د «رحمٰن» نوم په دوی کښې دومره مأنوس نه ؤ. البته په یهودانو کښې د «رحمٰن» اسم کثیر الاستعمال ؤ. په عبراني کښې هم دغه مبارک اسم هم داسي مقدسه معنی درلوده (لرله) لکه چه په عربي کښې ئې لري د بل لوري (مسیلمه کذاب) هم خپل لقب «رحمٰن الیمامه» ایښی ؤ. الغرض مشرکانو پر الله د «رحمٰن» د اسم له اطلاقه بد وړل او تور به ئې ځنې خوړ او په وحشت کښې به تري لویدل. لکه څه مهال (وخت) چه د رسول الله مبارک له ژبې څخه ئې «رحمٰن» اوریده نو به خپلو منځونو کښې به ئې ویل: چه محمد موږ د دوو خدایانو له بللو څخه منع کوي او دی پخپله ماسویٰ د الله څخه «رحمٰن» ته هم غږ کوي. یهوادنو به داسي شکایت کاوه چه په محمدي اذکارو او اورادو کښې ولې د «رحمٰن» د نامه ذکر په دغه اندازه زیات نه دی لکه چه په موږ کښې شته؟ نو د دغو دواړو جواب په دغه آیت کښې ورکړی شوی دی چه «الله» او «رحمٰن» دواړه د یوه منبع الکمالات ذات دوه نومونه دي، د صفاتو او د اسماؤ د تعدد څخه د ده د ذات تعدد نه لازمیږي او نه د هغه څیز د توحید سره څه منافات لري، پاتي شوه دغه خبره چه یو نوم ولې په کثرت سره استعمالیږي؟ نو وپوهیږئ چه د پاک الله هومره چه اسماء الحسنیٰ دي له هغو څخه هر یو نوم چه واخلئ او په هغه سره پاک الله ته غږ وکړئ صحیح دی. او مقصود تري همغه یو ذات دی. او د عنواناتو او تعبیراتو په تنوع سره معنون نه بدلیږي. هو! دغه یوه ضروري خبره ده چه هره خبره یو وقت لري او هره نکته یو ځای.

عباراتنا شتی وحسنک واحد وکل الی ذاک الجمال یشیر

دغه مبارک نومونه ځکه ښه دي چه د پاک الله پر جلالیهؤ صفاتو او تنزیهیهؤ اوصافو دلالت کوي چه نه جوهر دی او نه عرض او نه شرکاء لري او نه جهات په دغو ګردو (ټولو) اوصافو موصوف دی او پر «اکرام» باندې متصف دی چه د پاک الله پر وجودیهؤ صفاتو مشتمل دی لکه علم او قدرت او نور. وفي الحدیث :

(١) الله جل جلاله الذی لا اله الاهو (٢) الرحمٰن جل جلاله (٣) الرحیم جل جلاله (٤) الملک جل جلاله (٥) القدوس جل جلاله (٦) السلام جل جلاله (٧) المؤمن جل جلاله (٨) المهیمن جل جلاله (٩) العزیز جل جلاله (١٠) الجبار جل جلاله (١١) المتکبر جل جلاله (١٢) الخالق جل جلاله (١٣) البارئ جل جلاله (١٤) المصور جل جلاله (١٥) الغفار جل جلاله (١٦) القهار جل جلاله (١٧) الوهاب جل جلاله (١٨) الرزاق جل جلاله (١٩) الفتاح جل جلاله (٢٠) العلیم جل جلاله (٢١) القابض جل جلاله (٢٢) الباسط جل جلاله (٢٣) الخافض جل جلاله (٢٤) الرافع جل جلاله (٢٥) المعز جل جلاله (٢٦) المذل جل جلاله (٢٧) السمیع جل جلاله (٢٨) البصیر جل جلاله (٢٩) الحکم جل جلاله (٣٠) العدل جل جلاله (٣١) اللطیف جل جلاله (٣٢) الخبیر جل جلاله (٣٣) الحلیم جل جلاله (٣٤) العظیم جل جلاله (٣٥) الغفور جل جلاله (٣٦) الشکور جل جلاله (٣٧) العلی جل جلاله (٣٨) الکبیر جل جلاله (٣٩) الحفیظ جل جلاله (٤٠) المقیت جل جلاله (٤١) الحسیب جل جلاله (٤٢) الجلیل جل جلاله (٤٣) الکریم جل جلاله (٤٤) الرقیب جل جلاله (٤٥) المجیب جل جلاله (٤٦) الواسع جل جلاله (٤٧) الحکیم جل جلاله (٤٨) الودود جل جلاله (٤٩) المجید جل جلاله (٥٠) الباعث جل جلاله (٥١) الشهید جل جلاله (٥٢) الحق جل جلاله (٥٣) الوکیل جل جلاله (٥٤) القوی جل جلاله (٥٥) المتین جل جلاله (٥٦) الولی جل جلاله (٥٧) الحمید جل جلاله (٥٨) المحصی جل جلاله (٥٩) المبدی جل جلاله (٦٠) المعید جل جلاله (٦١) المحی جل جلاله (٦٢) الممیت جل جلاله (٦٣) الحی جل جلاله (٦٤) القیوم جل جلاله (٦٥) الواجد جل جلاله (٦٦) الماجد جل جلاله (٦٧) الواحد جل جلاله (٦٨) الصمد جل جلاله (٦٩) القادر جل جلاله (٧٠) المقتدر جل جلاله (٧١) المقدم جل جلاله (٧٢) المؤخر جل جلاله (٧٣) الاول جل جلاله (٧٤) الاخر جل جلاله (٧٥) الظاهر جل جلاله (٧٦) الباطن جل جلاله (٧٧) الوالی جل جلاله (٧٨) المتعالی جل جلاله (٧٩) البر جل جلاله (٨٠) التواب جل جلاله (٨١) المنتقم جل جلاله (٨٢) العفو جل جلاله (٨٣) الرءوف جل جلاله (٨٤) مالک الملک جل جلاله (٨٥) ذوالجلال والاکرام جل جلاله (٨٦) المقسط جل جلاله (٨٧) الجامع جل جلاله (٨٨) الغنی جل جلاله (٨٩) المغنی جل جلاله (٩٠) المانع جل جلاله (٩١) الضار جل جلاله (٩٢) النافع جل جلاله (٩٣) النور جل جلاله (٩٤) الهادی جل جلاله (٩٥) البدیع جل جلاله (٩٦) الباقی جل جلاله (٩٧) الوارث جل جلاله(٩٨) الرشید جل جلاله (٩٩) الصبور جل جلاله
جل جلاله وعم نواله و عظم شانه واعلیٰ برهانه، رواه الترمذی. کذا فی الجلالین، واقرأ تفسیره فی الجمل).

وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا ﴿١١٠﴾

او ډیر ظاهر والی مه کوه په (قرائت د) لمانځه خپل کښې او مکوه ډیر نرموالی په هغه (قرائت) کښې او ولټوه په منځ د دغه (جهر او اخفاء) کښې یوه لیاره (متوسطه).

**تفسیر :** یعنی په جهری لمانځه کښې (او هم داسې په ادعیه ؤ او اورادو او نورو کښې هم نه ډیر په زور سره غږیدل په کار دی او نه ډیر په ورو سره وئیل لازم دی بلکه منځنی، متوسط قرائت موزون دی (موضح القرآن). په احادیثو کښې دی کله چه په مکه معظمه کښې قرائت په زوره سره لوستل کیده نو مشرکینو به د هغه په اوریدلو سره هم قرآن او هم د هغه لیږونکی او د هغه راوړونکی او هم ویونکی په نسبت او شان کښې چتی (بیکاره) خبری او اپلتی (خرابی) ویلی نو ځکه رسول الله په ډیر ورو ورو لوستلو شروع وکړه. نو په دغه مناسبت دا آیت نازل شو. یعنی نه دومره په زور ئې ولوله؟ چه مشرکین ئې په خپلو کوړونو او مجالسو کښې واوری (د تبلیغ وقت مستثنیٰ دی. ځکه چه هلته خو اورول بالذات مقصود ؤ) او نه دومره ورو ورو ئې ولوله چه پخپله ستا ملګری هم هغه وانه وری. او تری مستفید نشی. افراط او تفریط دواړه پریږدئ! او متوسطه رویه ځان ته غوره کړئ! چه په هغې سره قلب متأثر کیږی، او تشویش بیخی ورک کیږی.

---

وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ لَمْ یَتَّخِذْ وَلَدًا وَّلَمْ یَكُنْ لَّهٗ شَرِیْكٌ فِی الْمُلْكِ وَلَمْ یَكُنْ لَّهٗ وَلِیٌّ مِّنَ الذُّلِّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِیْرًا ﴿۱۱۱﴾

---

وو وایه (ای محمده !) چه ټوله ثنا صفت هغه الله لره دی چه نه ئې دی نیولی ځوک ولد (لکه چه یهوادن وائی) او نشته ده ته شریک په ملک (سلطنت) کښې (لکه چه مشرکان وائی) او نشته ده ته ځوک دوست له جهته د عاجزی (لکه چه کتابیان وائی) او نسبت د لوئی وکړه الله ته (هر وقت) په لوئ کاملی سره.

---

**تفسیر :** له لمانځه څخه وروسته د خالص توحید ذکر ئې وفرمایه او سورت ئې ختم کړ. یعنی ګرد (ټول) محامد او ثناوی خاص د هغه الله تعالیٰ دپاره دی چه په خپلو ګردو (ټولو) صفاتو او کمالاتو کښې واحد دی او له هر راز (قسم) عیوبو او قصورو او نقصو او فتورو څخه بیخی پاک او منزه دی. د ده په ذات کښې هیڅ قسم داسې ضعف او کمزوری نشته چه د هغه د تلافی دپاره بل چا ته اړ (مجبور) یا محتاج شی. له بل چا ځنی په مدد اخیستلو کښې دری احتماله کیدی شی، یا له وړوکی څخه مدد وغوښتی شی لکه چه پلار له اولاد څخه مدد اخلی، یا له مساوی څخه لکه چه یو شریک له بل شریک څخه مرسته (مدد) غواړی، یا له لوی څخه، لکه چه کمزور او ضعیف انسان د ذلت او مصیبت په وقت کښې له غټانو او مشرانو څخه امداد غواړی. په دغه آیت کښې د دغو دریو واړو نفی وکړه شوه ګواکی په «لم یتخذ ولدا» سره د اول احتمال او په «لم یکن له شریک فی الملک» سره د دوهم او په «لم یکن له ولی من الذل» سره د دریم احتمال د نفی کولو څخه وروسته په «کبره تکبیرا» کښې ئې د خپل عظمت او کبریائی په لوری مونږ ته توجه راکړه.

یعنی انسان ته لازم دی چه د الله تعالیٰ پر عظمت او کبریائی له زړه او په ژبه سره اقرار وکړی. او

هغه جل او علا له هر راز (قسم) ضعفو او کمزوریو څخه ارفع او اعلیٰ وګڼی. او لطف دا دی چه په «لم یتخذ ولداً» کښی د نصاریٰ او په «لم یکن له شریک فی الملک» کښی د مشرکانو او په «لم یکن له ولی من الذل» کښی د هغو یهودانو تردید وشو چه د هغو په نزد د الله بیږی د یعقوب بیږی په مقابل کښی مقاومت ونشو کولی (العیاذ بالله) حضرت شاه صاحب لیکی «هیڅوک ئی مددګار نه دی د ذلت دپاره یعنی پر ده له سره ذلت نه راځی چه مددګار وغواړی. د باچاهانو په دربار کښی امراء ځکه لوړی مرتبی لری چه په بد ساعت کښی له هغوی سره دوی مرستی (مدد) او ملګرتیاوی کړی وی. خو د الله تعالیٰ په دربار کښی داسی قصی له سره نشته.»

**تمت سورة الاسراء بعون الله وحسن توفیقه فلله الحمد والمنة والصلوٰة والسلام علیٰ صاحب الاسراء وعلیٰ آله النجباء واصحابه الاتقیاء وتابعیهم الاصفیاء**

---

سورة الکهف مکیة الا آیة (۲۸) ومن آیة (۸۳) الی غایة (۱۰۱) فمدنیة وهی مائة وعشر آیات واثنا عشر رکوعاً عدد تلاوتها (۱۸) وعدد نزولها (۶۹) نزلت بعد الغاشیة

د کهف سورت مکی دی پرته (علاوه) له (۲۸) آیت څخه او له ۸۳ تر ۱۰۱ چه مدنی دی یو سل اولس آیته او دولس رکوع لری په تلاوت کښی (۱۸) او په نزول کښی (۶۹) سورت دی وروسته د «الغاشیة» له سورت څخه نازل شوی دی.

---

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

(شروع) په نامه د الله چه ډیر مهربان خورا (ډیر) رحم والا دی.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ عَلٰى عَبْدِهِ الْكِتٰبَ وَلَمْ يَجْعَلْ لَّهٗ عِوَجًا ۜ ①

هره ثنا صفت خاص الله لره دی هغه (الله) چه نازل کړی دی پر بنده خپل (محمد صلی الله علیه وسلم) کتاب (قرآن) حال دا چه نه ئی دی ګرځولی په دی قرآن کښی هیڅ کوږوالی (نه په الفاظو او نه په معانیو کښی)

---

**تفسیر :** یعنی له اعلیٰ څخنی د اعلیٰ تعریفونو او شکرونو مستحق همغه پاک الله کیدی شی چه خپل مخصوص او ډیر مقرب بنده محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی ئی له ګردو (تولو) څخه اعلیٰ او اکمل کتاب ئی نازل کړی دی او په دی شان اهل د څمکی ئی په ډیر لوی نعمت او برکت سره مشرف او ممتاز فرمایلی دی بیشکه په دغه مقدس کتاب کښی له سره هیڅ یوه کږه وږه او خرابه خبره نشته. عبارات ئی په انتهائی درجه سلیس او فصیح، د بیان اسلوب ئی ډیر مؤثر او صحیح،

تعلیم ئی نهایت واضح، متوسط او معتدل دی چه له هر وقت او له هر طبیعت سره مناسبت او مقاربت لری. او له سلیم عقل سره بالکل مطابق دی. د هیڅ قسم افراط او تفریط هیڅ قسم اثر او شائبه پکښې نشته.

قَيِّمًا لِّيُنذِرَ بَأْسًا شَدِيدًا مِّن لَّدُنْهُ

حال دا چه سم برابر دی (افراط او تفریط له سره پکښې نشته او نازل کړی ئی دی) دپاره د دی چه وویروی (محمد په دی کتاب سره کفار ) د عذابه سخته (چه راتلونکی دی) له جانبه د الله.

**تفسیر :** یعنی دغه مقدس کتاب له هغه عذاب او سخت آفته چه پر مکذبانو د قهار الله تعالیٰ له طرفه راتلونکی دی خبر ورکوی.
**تنبیه :** ځینو د «قیماً» معنی په «مستقیم» سره کړی ده او دا ئی د پخوانی مضمون تاکید مقرر کړی دی. یعنی هومره غور چه وکړئ د یوه ویښته په اندازه هم کوږوالی به په هغه کښې ونه مومئ مګر (فراء) د دی لفظ معنی داسې کړی ده «قیما علیٰ سائر الکتب السماویة» د ګردو (ټولو) سماویه ؤ کتابونو په تصدیق او صحت مهر لګوونکی دی او د هغو اصولی تعلیمات په دنیا کښې قایم ساتونکی دی.» او مسلم وائی «قیما بمصالح العباد » د ګردو (ټولو) بندګانو د ټولو مصالحو متکفل دی او د دوی د معاش او معاد روغوونکی دی.» په هر حال هر معنی چه تری واخیسته شي د هغه په صداقت کښې هیڅ د شبهې ځای نشته.

وَيُبَشِّرَ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا حَسَنًا ﴿٢﴾
مَّاكِثِينَ فِيهِ أَبَدًا ﴿٣﴾

او زیری ورکړی (محمد) مؤمنانو ته هغو ته چه کړی دی دوی ښه (عملونه) چه بیشکه شته دوی ته اجر ښه (چه جنت دی)، حال دا چه اوسیدونکی به وی په هغه (جنت کښې دائم قائم بلاانقطاع بلا انتقال) تل تر تله.

**تفسیر :** په ظاهر سره له دی نه د آخرت بدل یعنی جنت مراد دی چه هلته به قانتینو مؤمنینو ته دائمی خوښی او ابدی راحت ور په برخه کیږی.

وَّيُنْذِرَ الَّذِيْنَ قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا ۝۴

او چه وویروی هغه کسان چه وائی (له ډیره جهله) نیولی دی الله ولد.

**تفسیر** : د الله تعالیٰ دپاره د اولاد په تجویز کښی له گردو (تولو) څخه وړاندی او سابق القدم «نصاریٰ» دی او لکه چه له احادیثو څخه ظاهریږی له هم دغو سره به د قرآن د عاملینو او حاملینو علاقه او سابقه تر قیامت پوری وی. بیا هم د الفاظو په عموم کښی به ځینی هغه یهودی فرقی چه عزیر علیه السلام ته د الله ځوی یا ځینی هغه مشرکین چه ملائکة الله ته د الله لونی ویلی هم داخل دی. گواکی دلته د اولاد تجویز کوونکی کافرانو ته بالخصوص او نصاریٰ ؤ ته په اخص الخصوص سره تنبیه ورکړی شوی ده.

مَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ وَّلَا لِاٰبَآئِهِمْ ؕ كَبُرَتْ كَلِمَةً تَخْرُجُ مِنْ اَفْوَاهِهِمْ ؕ اِنْ يَّقُوْلُوْنَ اِلَّا كَذِبًا ۝۵

نشته دوی ته په دی خبره کښی هیڅ علم (بلکه هسی له خپله وهمه ئی وائی او نه پلرونو د دوی ته (څه علم شته)، لویه ده هغه خبره (د دوی) چه راوځی له خولی د دوی څخه، نه وائی دوی مگر دروغ (ډیر غټ).

**تفسیر** : یعنی کوم تحقیق او علمی اصول د دوی په لاس کښی نشته او نه د دوی د پلرونو او نیکونو په لاسونو کښی ؤ چه د هغوی په عمیاء تقلیدسره داسی غتی خبری له خپلو خولو څخه راوباسی. گواکی دوی د الله تعالیٰ د قدوسیت او سبوحیت له شانه بیخی بی خبر وو چه د ده په شان کښی له داسی گستاخی او سپین سترگی څخه لږ څه هم نه شرمیږی، د دلائلو او براهینو په ځای د دوی په ذخیره کښی هم دغه باقی پاتی دی چه له خپلی ژبی څخه یوه دروغه او بدیهی البطلانه خبره بی پروا راوباسی. او کله چه تری د هغه اثبات وغواړئ نو وائی چه دغه د مذهب له هغو اسرارو څخه ده چه تر هغه پوری د انسانی عقل او ادراک نشی رسیدی.

فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ عَلٰۤى اٰثَارِهِمْ اِنْ لَّمْ يُؤْمِنُوْا بِهٰذَا الْحَدِيْثِ اَسَفًا ۝۶

نو ښائی چه ته قتل کوی نفس خپل پر وروستو (د گرځیدو) د دوی (له تانه) که را نه وړی (دوی) ایمان په دی خبره (قرآن، نو ته ځان وژنی) له ډیره غمه.

**تفسير :** يعنی که دغه کافران قرآنی خبری نه منی نو تاسی د دوی په چرت (فکر) او غم کښی خپل ځان مه کړوئ! او مه له سره ويلی کيږئ! تاسی د تبليغ او دعوت فريضه اداء کړی او کوئ ئی. که ئی څوک نه قبلوی نو تاسی لره نه ښائی چه خپل ځان دومره وکړوئ! او دومره غمجن شئ! نه د ارمان او تأسف ضرورت شته او نه داسی وينا په کار ده چه مونږ پخپلو دغو کوښښونو کښی ولی بريالی (کامران) او کامياب نشو کيدی. تاسی خو په هر حال کښی بريالی (کامياب) يئ! هغه د دعوت، تبليغ او د خلائقو سره د همدردی او خواخوږی کارونه چه تاسی انجاموئ هغه ستاسی د مراتبو ترفيع او د مدارجو د ترقی ذرائع دی که اشقياء هغه نه قبلوی نو په دغه کښی د هم دغو خساره او تاوان دی.

إِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الْأَرْضِ زِينَةً لَّهَا لِنَبْلُوَهُمْ أَيُّهُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ⑦

بيشکه مونږ (چه يو) ګرځولی مو دی هر هغه څيز چه دی پر ځمکه زينت (ښائست رونق) دپاره د دی (ځمکی او اهل د ځمکی) دپاره د دی چه ازموينه وکړو پر دوی چه کوم يو له دوی ښخه ډير غوره دی له جهته د عمل.

**تفسير :** يعنی د هغه د رونق په طرف مندی وهی. يا هغه پريږدی او آخرت اخلی په ځينو رواياتو کښی راغلی دی چه ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه پوښتنه وکړه يا رسول الله صلی الله عليه وسلم «احسن عملا» کوم دی؟ وئی فرمايل «احسنکم عقلا و اورعکم عن محارم الله واسرعکم فی طاعته سبحانه وتعالیٰ» د هر چا پوه چه ډيره ښه وی او له حرامه زيات پرهيز کوی او د الله تعالیٰ د حکم منلو په طرف ډير ژر درومی».

وَإِنَّا لَجَاعِلُونَ مَا عَلَيْهَا صَعِيدًا جُرُزًا ⑧

او بيشکه چه مونږ خامخا ګرځونکی يو د هر هغه څيز چه پر دغه (ځمکه دی) ډاګ (صاف ميدان) وچ کلک (صاف پری کړی شوی دی يعنی خاوری پرتی پر ځمکه توتی توتی).

**تفسير :** يعنی يوه ورځ به دغه ګردی (تولی) ونی، واښه، ښينکی او نور د ځمکی موجودات تولوه شی او د ځمکی ښخه تش تور ډاګ ډبر ميدان جوړيږی هغه کسان چه د دی په ښايست او دول سينګار خوښ او غوليږی هغوی دی ښه وپوهيږی چه دغه زرق او برق او دول ډيل پرق او پروق پاتی کيدونکی شی نه دی. د دنيا هومره دنيوی ساز او سامان چه سره تول کړئ، او په

مادی ترقیاتو سره د ځمکی مخ لاله او گلزار جوړ کړئ تر هغه پوری چه له آسمانی هدایت او روحانی دولت څخه مو لاس تش وی حقیقی سرور او طمانیت او ابدی فلاح، نجات او راحت مو په برخه نشی رسیدی. آخری او دائمی نجات او فلاح او بری یواځی د همغو کسانو په برخه رسیږی، چه د حقیقی مولا له خوښی څخه د دنیا د هر زائل او فانی شی خوښی جار (قربان) کړی او د حق د لیاری د تللو څخه ئی هیڅ یو تکلیف، مصاعب او متاعب نه ستنوی (منع کوی) او نه د دنیا د لویو لویو جبارانو له تخویف او ترهیب او ویری څخه د ده د ثبات قدم له خپله ځایه وښوئیږی. په دغه سلسله کښی وراندی د ﴿ أَصْحَٰبَ ٱلْكَهْفِ ﴾ په غم کښی خپل ځان مه ویلی کوئ. هغه کسان چه د دی دنیا پر ژوندن عیش، عشرت او ښایست مغروریږی. او د دغو حقایقو څخه مخ اړوی، دوی گرد (تول) سره کند او کپر او صاف او برابر کیږی. او بالاخر د گردو (تولو) رجوع د پاک الله په طرف ده او هلته به دغه گردی (تولی) جگړی سره فیصله کیږی.

---

## أَمْ حَسِبْتَ أَنَّ أَصْحَٰبَ ٱلْكَهْفِ وَٱلرَّقِيمِ كَانُوا۟ مِنْ ءَايَٰتِنَا عَجَبًا ۝٩

آیا گمان کوی ته (ای محمده!) د دی خبری چه صاحبان د غار او د تختی وو دوی (په اعتبار د قصی) له دلائلو د (قدرت) ځمونږ ډیر عجیبه (او نور نشته بلکه نور عجیبه دلائل د الله د قدرتونو هم شته)

---

**تفسیر :** یعنی د الله د عظیمه قدرت په لحاظ د ﴿ أَصْحَٰبَ ٱلْكَهْفِ ﴾ قصه چه وروسته ذکر راځی کومه داسی عجیبه او غریبه خبره نه ده چه ئی له حده زیاته عجیبه وگڼئ، د ځمکی، آسمان، لمر، سپوږمی، ستوری، اور، اوبه او نورو شیانو پیدا کول، او د دوی ټینګ نظام قائمول، د ضعیف البنیان انسان فضیلت پر گردو (تولو) موجوداتو، بیا په انسانانو کښی د انبیاؤ علیهم السلام رالیږل د دوی قلیل او بی سرو سامانو دلو پر لویو لویو متکبرانو بریالی (کامیاب) او فاتح کول. د خاتم الانبیاء محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وعلیٰ اله وصحبه وسلم او د ده د رفیق حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه نجات د کفارو د مکر او فریب څخه او د (ثور) په غار کښی تر دریو ورځو پوری د دوی دواړو صحیح او سالم ساتل او د کفارو تعاقب او د غار (سمڅی) تر خوله پوری راتلل او بیا نامراده او بی د مرام له نیله بیرته گرځیدل. بالاخر د مسلمانانو هغه ډیر وړوکی بی سر و سامان دلی ته نه یواځی په «جزیرة العرب» بلکه په مشرق او مغرب کښی په ډیر لږ مدت کښی غلبه نصرت او بری په برخه کول آیا دغو او د دوی په شان نور بیشماره شیان د «اصحاب الکهف» له قصی څخه لږ حیرت او تعجب راوړونکی دی؟.

اصل دا دی چه یهودانو قریشو ته مشوره ورکړه چه د محمد صلی الله علیه وسلم څخه د امتحان او آزموینی په دول (طریقه) دری سؤاله وکړی (۱) روح څه شی دی (۲) د ﴿ أَصْحَٰبَ ٱلْكَهْفِ ﴾ قصه

څرنګه ده؟ (۳) د ذوالقرنين قصه څه وه؟ د ﴿ أَصۡحَٰبَ ٱلۡكَهۡفِ ﴾ قصې ته دوی د عجيب توب له حيثيته خاص اهميت ورکړی وو نو ځکه په دغه آيت کښې دا ښوولی شوی ده چه هغه دومره عجيبه نه ده لکه چه تاسې ئې ګڼئ! د هغه ځنې ډيری نوری عجيبې او غريبې د قدرت دلائل او نښې هم شته وروسته د «اصحاب الکهف» اول مجملاً بيا مفصلاً بيان فرمائی.

وائی چه دغه څو ځلميان د (روم) د کوم ظالم او جبار باچا په زمانې کښې وو چه د هغه اسم ځينو «دقيانوس» ښوولی دی باچا ډير سخت غالی بت پرست ؤ او په جبر او اکراه سره د بت پرستې په تعميم او اشاعت کښې مصروف ؤ عامو خلقو د تکليف او سختی او خوف او د څو ورځو دنيوی منافعو په طمع خپل مذاهب پريښودل او بت پرستی ئې اختيار کړه په دغه وقت کښې د څو تنو هغو ځلميانو په زړونو کښې چه د هغوی تعلق د سلطنتی عمائدو سره وو داسې خيال پيدا شو چه د يوه مخلوق له خاطره د خالق ناراضی نه ده په کار او د دوی زړونه د الله تعالیٰ له خشيته او د تقویٰ له نوره ډک ؤ. الله تعالیٰ دوی د صبر او استقلال او د توکل او تبتل له دولت څخه ماړه کړی وو. دوی د باچا په مخ کښې ودريدل او په ډير جسارت او ميرانې (بهادری) ئې دغسې ناری وکړی: ﴿ لَن نَّدۡعُوَاْ مِن دُونِهِۦٓ إِلَٰهٗاۖ لَّقَدۡ قُلۡنَآ إِذٗا شَطَطًا ﴾ او د دغه خپل ايمانی جرأت او د استقلال د مظاهری څخه ئې ګرد (تول) ليدونکی او اوريدونکی سره مبهوت او متحير کړل.

باچا څه د دوی پر ځلميتوب رحم وکړ او څه د نورو مشاغلو او ملکی مصالحو لامله (له وجی) د دوی د فوری وژلو څخه سترګی پټی کړی او څو ورځې ئې دوی ته مهلت ورکړ. څو دوی پخپل دغه معامله کښې غور او نظر ثانی وکړی.

خو دغو ځلميانو داسې مشوره او سره ئې غوته کړه چه په داسې د فتنې په وقت کښې چه موږ د جنګ او د تشدد له لاسه عاجزان شوی يو او په هر حال کښې ځموږ د قدمونو د خوئيدلو ويره او خطره شته نو موږ ته به دغه مناسبه وی چه ښار ته نژدی د غره په کوم غار کښې پټ او منتظر اوسو چه په مناسبه موقع کښې بيا له هغه ځايه ووځو نو ئې دعاء وکړه چه: ای الله! ته پخپل خصوصی رحمت سره ځموږ کار راجوړ کړه! او د رشد او هدايت په لاری د تللو ګرد (تول) انتظام موږ ته وکړه! بالاخر دوی له ښاره ووتل او په کوم نژدی غره کښې ئې پناه ونيوله او له خپلو ملګرو څخه يو تن ئې مامور کړ چه د لباس په تغير سره کله نا کله ښار ته ورځه! او ځموږ د تولو ضروريات او حوائج د ښار د حال او احوال سره راوړه! او موږ د هغه ځای له اخبارونو څخه مطلع کړه! کوم سړی چه پر دغه کار مامور ؤ هغه يوه ورځ اطلاع ورکړه چه نن په ښار کښې رسماً ځموږ تعقيب او پلټنه (تحقيق) کيده او زموږ اقارب اعزه او خپلوان مجبور شوی وو چه ځموږ پته او سراغ وروښيی. دوی په هم دغو مذاکرو کښې وو چه يو ناڅاپه الله تعالیٰ پر دوی خوب طاری کړو ويلی کيږی چه د حکومت سړی ډير تلاش او پلټنه (لټون) وکړه، خو د دوی درک او سراغ ئې ونه موند او ستړی ستومان کيناستل، بالاخر د باچا له رائی سره سم د ښيښې پر يوه تخته د دی ځلميانو نومونه او مميزه صفات او نور مناسب احوال وليکل او

په یو محفوظ ځای کښې کیښود شو څو تل د دولت اراکین، مامورین او راتلونکی نسل په دی خبردار وی چه داسی د ځلمیانو یوه ډله په حیرت راوړونکی طریقه تښتیدلی دی چه سره له ډیر لټولو د هغوی هیڅ نښه او اثر نه دی پیدا شوی. ممکن دی چه وروسته له دی نه د هغو سراغ او پته پیدا او ځینی نور عجیب او غریب واقعات هم څرګند (ښکاره) شی. دغه ځلمیان پر کوم مذهب وو؟ په دغه کښې اختلاف دی. ځینی وائی چه نصرانیان یعنی د مسیح علیه السلام د اصلی دین تابعان وو. لیکن ابن کثیر رحمة الله علیه د قرائنو له مخی دی ته ترجیح ورکړی ده چه د «اصحاب الکهف» قصه د مسیح علیه السلام د زمانی څخه پخوانی قصه ده. والله اعلم.

**تنبیه :** «رقیم» د غره کندی او سوری ته وائی او «رقیم» د «مرقوم» په معنی هم راځی. یعنی لیکلی شوی شی. د مسند عبد بن حمید په روایت کښې چه هغه ته حافظ علی شرط البخاری ویلی دی له ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه څخه د «رقیم» بله معنی منقوله ده یعنی «اصحاب الکهف» او «اصحاب الرقیم» د هم دغی یوی ډلی دوه لقبونه دی. د غار د اوسیدلو له وجی نه دوی ته «اصحاب الکهف» وائی. او کله چه د دوی نومونه او صفات او نور په تخته کښې لیکلی، ایښود شوی دی نو ځکه هغوی ته «اصحاب الرقیم» هم وائی مګر محقق شیخ الهند رحمه الله ړومبنی معنی اخیستی ده او په هر صورت «اصحاب الکهف» او «اصحاب الرقیم» ئی یو څیز مقرر کړی دی، د ځینو علماؤ رأیه دا ده چه د «اصحاب الرقیم» قصه په قرآن کښې نه ده مذکوره او محض د عجیب توب لامله (وجی) د «اصحاب الکهف» په تذکره کښې د هغه حواله هم ورکړی شوی ده او فی‌الحقیقت «اصحاب الرقیم» د (غار والا یا کنده والا) هغه دری تنه سری دی چه د باران څخه تښتیدلی وو او په یوه سوری کښې ئی پناه نیولی وه او له پاسه یوه لویه پرښه (ګټه) ورغړیده او د هغه سوری خوله ئی بنده کړه. په دغه وقت کښې هر سری خپل د عمر د ډیر ښه عمل په طفیل د الله تعالیٰ له درباره خپل نجات غوښت، او متدرجاً د دغه سوری خوله ارتیده. «امام بخاری رحمة الله علیه» د «اصحاب الکهف» د ترجمی د منعقد کولو څخه وروسته د «حدیث الغار» مستقل عنوان قائم کړی دی. او په هغه کښې ئی د دغو دری واړو سړیو قصی مفصل درج کړی دی. ښائی هم دی طرف ته ئی اشاره کړی وی چه «اصحاب الرقیم» هم دغه کسان دی. «طبرانی» او «بزار» د نعمان بن بشیر په حسن اسناد سره مرفوعاً روایت کړی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د «رقیم» ذکر وفرمایه او د دغو دریو سړیو قصه ئی بیان کړه والله اعلم.

---

إِذْ أَوَى الْفِتْيَةُ إِلَى الْكَهْفِ فَقَالُوا رَبَّنَا آتِنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً وَهَيِّئْ لَنَا مِنْ أَمْرِنَا رَشَدًا ﴿١٠﴾ فَضَرَبْنَا عَلَىٰ آذَانِهِمْ فِي الْكَهْفِ سِنِينَ عَدَدًا ﴿١١﴾

---

یاد کړه هغه وقت چه رجوع وکړه هغو ځلمیانو (د ویری د کفارو) غار ته

نو وویل دوی ای ربه څمونږه را کړه مونږ ته له خپله نزده رحمت (چه پری پټ شو له غلیمه «دشمنه») او تیار کړه مونږ ته له دی کاره څمونږ (چه مفارقت د کفارو دی) هدایت او کېښوده مونږ (پرده) پر غوږونو د دوی ( چه هیڅ غږ ئی نه اوریده او ویده پراته وو) په غار کښی څو کاله په شمیر.

**تفسیر** : یعنی داسی ئی پر غوږونو وټپول چه تر کلونو کلونو پوری په همغه سوری کښی ویده پراته وو. او د دی خوا او هغی خوا له احواله له سره نه وو خبر او نه کومه خبره د دوی غوږونو ته رسیده.

ثُمَّ بَعَثْنٰهُمْ لِنَعْلَمَ اَیُّ الْحِزْبَیْنِ اَحْصٰی لِمَا لَبِثُوْٓا اَمَدًا ﴿۱۲﴾

بیا راپورته کړل مونږ دوی دپاره د دی چه (په حالی علم سره هم معلوم کړو) چه کومه یوه له دغو دواړو ډلو مختلفو په څنډ کښی) ښه حساب کوونکی ده (یا ئی یاد کړی دی حساب) د هغه چه دوی څه مدت تیر کړی ؤ (په دغه غار کښی).

**تفسیر** : له ډیرو کلونو څخه وروسته الله تعالیٰ دوی ویښ کړل. څو ظاهر شی چه د اختلاف کوونکو په منځ کښی کوم یو د دوی د نوم د مدت صحیح اندازه ښوولی شی؟ ظاهر دی چه د داسی اوږده خوب څخه وروسته کله چه دوی ویښ شوی دی نو په قدرتی طور سره پخپله د خوب کوونکی او ګردو (تولو) لیدونکو په منځ کښی راز راز (قسم قسم) خبری سره مبادله کیږی. او څینی ئی مدت لږ ښیی. او څینی ئی ډیر څرګندوی (ښکاروی). یو به اقرار کوی. او بل به ئی مستبعد ګڼلی تری انکار کوی. نو دوی ئی راویښ او دا ئی وروښوده چه کوم یو جماعت سم له حقیقت سره سمی خبری کوی؟ او واقعیت ته نژدی دی؟ او وروسته د دی حقیقت له پوهیدلو سره د بعث «بعد الموت» عقده حل کولی شی؟ چه په هغه کښی د هغی زمانی خلقو سره جګړی کولی.

نَحْنُ نَقُصُّ عَلَیْكَ نَبَاَهُمْ بِالْحَقِّ اِنَّهُمْ فِتْیَةٌ اٰمَنُوْا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنٰهُمْ هُدًی ﴿۱۳﴾

مونږ قصه کوو تاته (مفصلاً) خبر حال د دوی په حقه (رښتیا) سره، بیشکه دوی داسی ځلمیان دی چه ایمان لری په رب خپل او زیات کړی ؤ مونږ

دوی له جهته د هدایته.

تفسیر : یعنی د ایمان څخه زیات درجه ئی ورته ورکړه چه د اولیاؤ درجه ده.

وَرَبَطْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ

او ټینګ تړلی دی مونږ پر زړونو د دوی (قوت او صبر)

تفسیر : یعنی زړونه مو قوی کړی ؤ په قبول او اظهار د حق سره او دوی مضبوط او ثابت قدم کیښود او خپله خبره ئی صافه وویله.

اِذْ قَامُوْا فَقَالُوْا رَبُّنَا رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لَنْ نَّدْعُوَاْ مِنْ دُوْنِهٖۤ اِلٰهًا لَّقَدْ قُلْنَاۤ اِذًا شَطَطًا ﴿١٤﴾

کله چه پاڅیدل (پس له مامورېدلو د کفر په سجدی سره) نو وویل دوی رب څمونږ رب د آسمانونو او (رب) د ځمکی دی له سره به عبادت ونه کړو بی له همغه الله د بل معبود (او که بل څوک مونږ په الوهیت سره وباله نو) خامخا په تحقیق ویلی به وی مونږ هلته خبره خطا لویه دروغه.

تفسیر : یعنی کله چه «رب» هغه دی نو د بل چا معبود درول حماقت دی، «الوهیت» او «ربوبیت» دواړه هم ده ته وړ (لائق) او مخصوص دی.

هٰۤؤُلَآءِ قَوْمُنَا اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖۤ اٰلِهَةً ؕ لَوْلَا يَاْتُوْنَ عَلَيْهِمْ بِسُلْطٰنٍۭ بَيِّنٍ ؕ فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ؕ ﴿١٥﴾

دا کسان قوم څمونږ نیولی دی دوی بی له الله (نور باطل) معبودان، ولی نه راوړی دوی په (عبادت د باطلو معبودانو) کوم برهان سند، ښکاره نو څوک دی ډیر ظالم له هغه چا څخه چه تړی پر الله دروغ (چه شریکان ورته دروی بلکه لوی ظالم له ده څخه بل نه دی).

**تفسير :** لکه چه موحدين د توحيد صاف صاف دلائل وړاندی کوی که مشرکين هم پخپله دعوی کښې رښتين وی نو کوم واضح دليل ولی نه وړاندی کوی؟ که ئی وړاندی کړی نو له کومه به ئی راوړی؟ دروغ پټه نه لری. له دی نه به لوی دروغ څه وی چه دوی د الله تعالیٰ دپاره شريک دروی.

کله چه دقيانوس اصحاب الکهف ته دری ورځې مهلت ورکړ او دوی پخوا د تماميدلو د دری ورځو وتښتيدل نو (يمليخا) چه مشر د دوی ؤ په منځ کښې د لياری کښې ئی ووېل خپلو ځينو نورو ځلميانو ته داسی:

وَإِذِ اعْتَزَلْتُمُوهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ إِلَّا اللَّهَ فَأْوُوا إِلَى الْكَهْفِ يَنْشُرْ لَكُمْ رَبُّكُمْ مِنْ رَحْمَتِهِ وَيُهَيِّئْ لَكُمْ مِنْ أَمْرِكُمْ مِرْفَقًا ﴿١٦﴾

او کله چه په څنګ شوئ تاسی له دغو مشرکانو او له هغو (بتانو) چه عبادت ئی کوی دوی بی له الله نو ځای ونيسئ تاسی هغه غار ته (او ديره شئ پکښې) خپور (خور) به کړی تاسی ته رب د تاسی له رحمته خپل او تيار به کړی تاسی ته له کار ستاسی اسباب د ګزران (او خوشالئی).

**تفسير :** يعنی «کله چه د مشرکانو له دينه مونږ بيل يو نو په ظاهری ډول (طريقه) سره هم مونږ ته لازم دی چه له هغوی څخه بيل اوسو. او کله چه د دوی له باطلو معبودانو څخه ګوښه (بيل) شو نو ښائی چه له هر طرفه وشکوو او خاص خپل لوی الله جلت عظمته په طرف رهی (لاړ) شو او د هغه رحمت او تلطف ته اميد واری ولرو» پخپلو منځونو کښې ئی سره داسی مشوری وکړی په پای (اخر) کښې لاړل او د غره په سمڅی کښې کيناستل.

وَتَرَى الشَّمْسَ إِذَا طَلَعَتْ تَزَاوَرُ عَنْ كَهْفِهِمْ ذَاتَ الْيَمِينِ وَإِذَا غَرَبَتْ تَقْرِضُهُمْ ذَاتَ الشِّمَالِ وَهُمْ فِي فَجْوَةٍ مِنْهُ ذَٰلِكَ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ

او وينی به ته لمر کله چه راخيژی نو ميلان کوی له غاره د دوی ښی طرف ته او کله چه لويږی نو پريږدی دوی (او تری تيريږی) کيڼ طرف ته او دوی په ارت ميدان کښې دی له دی غاره، دغه (مذکوره احوال د دوی) له دلائلو

(د قدرت) د الله دی.

**تفسیر :** یعنی الله تعالیٰ پخپل کامل قدرت سره دوی ته د داسی دیره ځای په لوری لیار ښوونه وکړه چه هلته مأمون او مطمئن شول او په آرامی او خوشالی سره پریوتل نه د ځای د تنګوالی څخه د دوی زړونه خفه ؤ او نه لمر دوی ته څه ربړ (زحمت) او تکلیف رسوه. د دی لامله (له وجی) چه د دغه سوری مخ د شمال په لوری او په هسی یوه وضع او هیئت سره واقع وه چه د ضرورت په اندازه به لمر ورته رسیده او بی د څه ضرر د رسولو څخه به تری وته.

مَنْ یَّهْدِ اللّٰهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِ ۚ وَمَنْ یُّضْلِلْ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ وَلِیًّا مُّرْشِدًا ﴿۱۷﴾

هر چاته چه سمه صافه لیاره وروښوده الله نو همغه دی د سمی صافی لیاری موندونکی او هر څوک چه ګمراه ئی کړی (الله) نو له سره به نه مومی ته ده ته کوم ولی دوست لیار ښوونکی.

**تفسیر :** یعنی ظاهری او باطنی لیار ښوونه ګرد (تول) د ده په قبضه کښی ده وګوره څه مهال (وخت) چه ګرده (توله) دنیا سره ښوئیدلی وه «اصحاب الکهف» ئی څرنګه د هدایت په لیاره تینګ او ثابت قدم کړل او په ظاهری دول (طریقه) ئی هم څرنګه د یوه عجیبه سوری په طرف د دوی لیار ښوونه وکړه.

وَتَحْسَبُهُمْ اَیْقَاظًا وَّهُمْ رُقُوْدٌ ۖ وَّنُقَلِّبُهُمْ ذَاتَ الْیَمِیْنِ وَ
ذَاتَ الشِّمَالِ ۖ وَكَلْبُهُمْ بَاسِطٌ ذِرَاعَیْهِ بِالْوَصِیْدِ ؕ لَوِ اطَّلَعْتَ
عَلَیْهِمْ لَوَلَّیْتَ مِنْهُمْ فِرَارًا وَّلَمُلِئْتَ مِنْهُمْ رُعْبًا ﴿۱۸﴾

او ته به ګمان کوی په دوی (که چیری ئی ووینی) چه ویښ دی حال دا چه دوی ویده دی او اړوو دوی (د پرښتو په وسیله) په ښی اړخ او کیڼ اړخ او سپی د دوی (د دوی په مخ کښی ورته پروت دی چه) غځوونکی دی (په ځمکه) د دواړو څنګلو خپلو په خولی د غار کښی، که (چیری ورپورته شی

ته دوی ته او (نظر واچوی پر دوی نو خامخا مخ به وګرځوی ته له دوی
څخه په تیښته او خامخا ډک به کړی شی ته له دوی نه له ویری.

**تفسیر** : وائی چه د دوی سترګی به د خوب په وقت کښې هم خلاصی وی او د دومره یو طویل خوب هیڅ یو اثر د دوی په ابدانو کښې نه ښکاریده. نو ځکه هر چا به چه دوی ته کاته نو داسی ئی ګانه چه دوی ویښ دی. او الله تعالیٰ دغو ویدو ځلمیانو ته شان. هیبت او جلال ورویاښه. او دوی دغه د هستوګنی ځای ته ئی دومره دهشت او عظمت ورکړ چه هیچا به ورته نه شو کتلی، او نه به ورنژدی کیدلی شو څو خلق د هغه د ځای څخه ننداری جوړی نه کړی او هلته بنداری ونه تړی او دوی ناآرامه او بی هوسا (بی آرامه) نه کړی د دوی پسی یو سپی هم رهی (روان) شوی ؤ چه د دغو نیکانو اثر پر دغه سپی هم ورسیده. او تر سلهاؤ کلونو پوری ژوندی پاتی شو. اګر که د سپی ساتل بد دی. لیکن په ملیاردو بدانو کښې یو ښه هم شته. او خورا (زیات) ډیر هسی بدان چه د خپلو بدو اعمالو له کبله (وجی) له سپی او نورو حیواناتو څخه هم ښکته او خراب وو د نیکانو او ښو میرو (خاوندانو) له برکته د عزت او عظمت او رفعت خاوندان شوی دی. او بالعکس د نیکانو له کوره او کهوله ډیر کسان پخپل ځان حیران پاتی شوی دی.

ځوی د نوح چه له بدانو سره مل شو.
کورنی صفت ئی ورک شو دی ځپل شو.
د اصحاب الکهف سپی چه څو ورځی
پل د نیکو کښې رهی شو وصف ئی بل شو .
څوک چه ښه ګرځی ښه وینی پاک الله به تری خوشال شی.
څوک چه بد ګرځی بد پرځی د غلو مل ته وینه غل شو.

وَكَذٰلِكَ بَعَثْنٰهُمْ لِيَتَسَآءَلُوْا بَيْنَهُمْ ؕ قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ
كَمْ لَبِثْتُمْ ؕ قَالُوْا لَبِثْنَا يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ؕ قَالُوْا رَبُّكُمْ
اَعْلَمُ بِمَا لَبِثْتُمْ ؕ فَابْعَثُوْٓا اَحَدَكُمْ بِوَرِقِكُمْ هٰذِهٖٓ
اِلَى الْمَدِيْنَةِ فَلْيَنْظُرْ اَيُّهَآ اَزْكٰى طَعَامًا فَلْيَاْتِكُمْ بِرِزْقٍ
مِّنْهُ وَلْيَتَلَطَّفْ وَلَا يُشْعِرَنَّ بِكُمْ اَحَدًا ﴿١٩﴾

إِنَّهُمْ إِن يَظْهَرُوا عَلَيْكُمْ يَرْجُمُوكُمْ أَوْ يُعِيدُوكُمْ فِي مِلَّتِهِمْ وَلَن تُفْلِحُوا إِذًا أَبَدًا ﴿٢٠﴾

او هم داسی (لکه چه ویده کړی وو مونږ اصحاب الکهف) ویښ کړه مونږ دوی چه پوښتنه وکړی پخپلو منځونو کښې، نو وویل یو ویونکی له دوی نه چه څومره مدت مو تیر کړی دی؟، نو وویل (ورته دغو نورو چه) تیره کړی ده مونږ یوه ورځ یا یوه برخه د ورځې، وویل (نورو) چه رب ستاسی ښه خبر دی په هغه مدت چه تیر کړی دی تاسی نو ولیږئ تاسی یو خپل په دی سپینو زرو ستاسی چه دا دی دی ښار ته نو ودی ګوری چه کوم یو له دغه (اهل د ښار) نه ښه پاکیزه دی له جهته د طعامه نو رادی وړی تاسی ته رزق له هغه او نرمی او زیرکی دی کوی (په معامله کښې) او نه دی خبروی خامخا په تاسی هیڅ یو هم. بیشکه دوی که خبردار (یا قادر) شی پر تاسی نو سنګسار به کړی تاسی یا به بیرته وګرځوی دوی تاسی په دین خپل کښې او له سره به خلاص نه شئ تاسی (او ښه به ونه مومئ) په دغه وقت کښې هیڅکله.

**تفسیر :** یعنی څرنګه ئی چه پخپل قدرت سره دوی په داسی یوه اوږده خوب کښې ویده کړی ؤ همغسی ئی دوی په مقرره وقت کښې راویښ کړل، کله چه پاڅیدل نو پخپلو منځونو کښې ئی سره په مذاکرو شروع وکړه، چه مونږ به څومره مدت ویده شوی یو؟ ځینو وویل «یوه یا نیمه ورځ» یعنی ډیر لږ ویده شوی یو. بل وویل چه (له دغو بی فائدو خبرو څخه څه په لاس درځی) په دغه خو د الله تعالیٰ علم ډیر ښه رسیږی چه مونږ څومره مدت ویده شوی یو. اوس کار کوئ، یو سړی ته پیسی ورکړئ، او ښار ته ئی ولیږئ چه له کوم دکان څخه حلال او طیب طعام واخلی. او رائی وړی مګر دغه ضروری ده چه دغه سړی دی په ډیر هوښیاری سره لاړ شی او بیرته دی راشی او په نرمی او تدبیر سره دی ښائی معامله وکړی چه هیڅ یوه ښاری ته ځمونږ پته او نښه څرګنده (ښکاره) نشی که نه لویه خرابی به راپیښیږی. که هغه ظالم باچا پر مونږ خبردار شی نو مونږ به سنګسار کړی. یا به مونږ په جبر او اکراه سره له دغه حقانی دین څخه واړوی. (العیاذ بالله) که داسی کومه واقعه راپیښه شوه نو هغه اعلیٰ کامیابی او فلاح چه مونږ ئی غواړو له سره نه حاصلیږی. ځکه چه د حق دین څخه اوښتل اګر که په جبر او اکراه سره هم وی د اولواالعزمو مؤمنانو کار نه دی.

**تنبیه :** ځما په نزد ﴿ يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ﴾ محض د مدت د تقلیل څخه کنایه ده د خوب د پاڅیدلو څخه وروسته دغه طویل مدت هم دوی ته قلیل محسوس شوی ؤ. رښتیا ده چه «خوب او

مرګ سره برابر دی» د ﴿ يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ﴾ د «او» د حرف سره استعمال داسی وګنړئ لکه چه د جزء (۱۸) «المومنون» د سورت په (۱۱۲) آیت (٦) رکوع کښی دی
﴿ كَمْ لَبِثْتُمْ فِي الْأَرْضِ عَدَدَ سِنِينَ قَالُوا لَبِثْنَا يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ فَاسْأَلِ الْعَادِّينَ ﴾

---

وَكَذَٰلِكَ أَعْثَرْنَا عَلَيْهِمْ لِيَعْلَمُوا أَنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ وَأَنَّ السَّاعَةَ لَا رَيْبَ فِيهَا إِذْ يَتَنَازَعُونَ بَيْنَهُمْ أَمْرَهُمْ

---

او هم داسی (لکه چه مو ویښ کړی وو دوی) خبر کړل مونږ (خلق) پر دوی باندی چه پوه شی (دغه د حشر منکران چه) بیشکه وعده د الله حقه ده او بیشکه قیامت (چه دی) نشته هیڅ شک په (راتلو د) هغه کښی (او خبر کړل مونږ دغه خلق په اصحاب الکهف) کله چه جګړی کولی دوی په منځ خپل کښی په کار (د دین) خپل.

---

**تفسیر :** یوه له دوی ځینی پیسی واخیستی او ښار ته ننوت خو د ښار ګرد (تول) شیان د ده په نظر کښی پردی او غیر متعارف ښکاره شول په دغه مدت کښی څو قرنه تیر شوی ؤ، د ښار خلق د دغو پیسو د سکو د لیدلو څخه حیران شول چه پر دی د کوم باچا نوم دی؟ او د کومی زمانی دی؟ او ګرد (تول) سره داسی وپوهیدل چه دغه سړی له کوم ځایه کومه قدیمی خښنه کړی خزانه موندلی ده څو دغه خبره د باچا په غوږ کښی ورسیده او هغه همغه پخوانی لیکلی تخته وغوښته چه پر هغه څو نومونه او ممیزه صفتونه لیکلی شوی ؤ او دغه هم پکښی مسطور ؤ چه دغه ځلمیان یو ناځاپه په دغه کال کښی لا درکه او تری تم شول. له تحقیقه ثابته شوه چه دغه سړی د همغه مفقودالخبر دلی څخه دی. په دغه وقت کښی په دغه ښار کښی د «بعث بعد الموت» په نسبت سخت جګړه نښتی وه چا به ویل چه د مړ کیدلو څخه وروسته بیا ژوندون نشته، چا به ویل چه محض روحانی بعث دی او جسمانی نه دی څوک د روحانی او جسمانی د دواړو معادو قائل ؤ، د دی وقت باچا یو حق خوښوونکی، منصف سړی ؤ، او غوښته ئی چه له یو طرف کوم داسی نظیر او مثال په لاس ورشی چه په هغه سره پوهول آسان شی، او عقلی استبعاد له منځه ورک شی. پاک الله دغه نظیر ورپیدا کړ، بالاخر د آخرت منکران هم د دی حیرت راوړونکی ماجری د لیدلو او اوریدلو سره په آخرت متیقن شول، او دغی نظاری په خاص ډول (طریقه) سره د دوی پر طبائعو اثر وغورځاوه او وپوهیدل چه په دی سره الله تعالیٰ مونږ ته تنبیه راکړه ځکه چه دغه قصه د دوهم ځلی بیا ژوندی کیدلو څخه له سره کمه نه ده.

**تنبیه :** ځینو د ﴿ إِذْ يَتَنَازَعُونَ بَيْنَهُمْ أَمْرَهُمْ ﴾ مطلب داسی اخیستی دی چه الله تعالیٰ د

«اصحاب الکهف» له حاله په هغه وقت کښې خلق خبر کړی ؤ نو ځکه د «اصحاب الکهف» په نسبت جګړو او مناقشو جریان درلود (لرلو)، چه هغه څو تنه ځلمیان چه یو ناڅاپه سره ورک او تری تم (ګدود) شوی وو. چیری لاړل؟ چه د هغوی په نسبت له ډیری اوږدی زمانی راهیسی داسی آورو چه راغی. دوی ولی رانغلل؟ دوی چیرته لاړل؟ د دوی نسل به چیری منتشر شوی وی؟ تر اوسه پوری دوی نه دی ژوندی پاتی. او ضرور ګرد (تول) سره مړه او خاوری شوی دی. په دغه مسئله کښې به ځینو یو شی او ځینو به بل شی ویل چه یو ناڅاپه الله تعالیٰ د حقیقت له مخی پرده پورته کړه او هغه ګرد (تول) اختلافات ئی سره ورک کړل.

---

فَقَالُوا ابْنُوا عَلَيْهِم بُنْيَانًا ۖ رَّبُّهُمْ أَعْلَمُ بِهِمْ ۚ قَالَ الَّذِينَ غَلَبُوا عَلَىٰ أَمْرِهِمْ لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيْهِم مَّسْجِدًا ﴿٢١﴾

---

نو وویل (دغو خلقو یو بل ته) چه جوړه کړئ پر دوی یوه بناء، رب د دوی ښه عالم دی په (احوال د) دوی، وویل هغو کسانو چه غالب وو په کار (د دین) د دوی چه خامخا جوړ به کړو مونږ هرومرو (خامخا) پر دوی باندی مسجد (چه لمونځ پکښې وکړی شی.)

---

**تفسیر :** دغه نه دی معلوم چه وروسته له هغه «اصحاب الکهف» همغسی ژوندی پاتی شول؟ یا ئی انتقال وکړ؟ که انتقال ئی کړی دی څه مهال (وخت) ؤ؟ او که ژوندی پاتی دی تر کله؟ یا به تر کله ژوندی پاتی کیږی؟ په هر حال د هغه ښار خلقو چه دغه سوری ته نژدی په کوم مناسب ځای کښې د یادونی په شان کوم عمارت جوړ کړی چه له هغه ځینی زائرینو ته څه سهولت پیښ شی نو په دغه کښې به د آراؤ اختلاف واقع شوی وی چه څه قسم عمارت جوړ کړ شی، د دغو اختلافونو تفصیلات خو پاک الله ته ښه معلوم دی، او دغه هم د ده په علم کښې شته چه دغه تجویز د دوی له موت څخه وروسته وشو؟ یا پخوا له موته؟ یا د دوهم ځلی د خوب طاری کیدلو څخه وروسته؟ آیا خلق تر هغه سوری پوری رسیدلی دی؟ او د دوی په ملاقات یا زیارت مشرف شوی دی؟ که نه؟ خو بیا هم هغو بارسوخو او بااقتدارو سریو «چه د اصحاب الکهف» پر اسلامی دین وو داسی سره غوته کړه چه دغه غار ته نژدی یو معبد تعمیر شی د اصحاب الکهف په نسبت برسیره پر دی چه پاخه موحدان او متقیان وو په یقینی ډول (طریقه) نه ویل کیدی شی چه د کوم نبی علیه السلام پر دین او شریعت وو لیکن هغه کسان چه پر دوی معتقدان شوی او عمارت ئی ورجوړ کړی وو نصرانیان وو. ابوحیان په «بحر محیط» کښې د «اصحاب الکهف» د ځای د متعین کولو په نسبت متعدد اقوال نقل کړی دی. من شاء فلیراجعه.

سَيَقُولُونَ ثَلٰثَةٌ رَّابِعُهُمْ كَلْبُهُمْ ۚ وَيَقُولُونَ خَمْسَةٌ سَادِسُهُمْ كَلْبُهُمْ رَجْمًا بِالْغَيْبِ ۚ

ژر به وائي (يعقوبيه چه دوى) درى دى ځلورم د دوى سپى د دوى دى، او وبه وائى (نسطوريه چه دوى) پنځه دى شپږم د دوى سپى د دوى دى، ويشتل (او ويل بى له ښښى بى دليله) په غيب سره.

تفسير: يعنى سامعين به د «اصحاب الكهف» د قصى له آوريدلو څخه وروسته لكه چه د خلقو عادت دى اټكلى غښى ولى يو به وائى چه دوى درى وو، ځلورم د دوى سپى ؤ. بل به وائى چه دوى پنځه وو او شپږم به سپى ښيى. ليكن دغه ګرد (ټول) اقوال داسى دى لكه چه څوک يى د ښښى له ټاكلو (مقررولو) څخه تيرى (ګټى) وولى. ممكن دى د دغو مختلفو خبرو په ويلو كښى برسيره په جهل د رسول الله صلى الله عليه وسلم امتحان هم مقصود وى چه وګورو محمد صلى الله عليه وسلم په دغه معامله كښى څه فرمائى؟ ځكه احتمال لرى چه يهوادنو د هغو صحيح تعداد اوه ښوولى وى چه د هغه په طرف لوى قرآن هم اشاره فرمائى.

وَيَقُولُونَ سَبْعَةٌ وَّثَامِنُهُمْ كَلْبُهُمْ ۚ قُلْ رَّبِّي أَعْلَمُ بِعِدَّتِهِمْ مَّا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا قَلِيلٌ ۫ فَلَا تُمَارِ فِيهِمْ إِلَّا مِرَاءً ظَاهِرًا ۖ وَّلَا تَسْتَفْتِ فِيهِمْ مِّنْهُمْ أَحَدًا ﴿٢٢﴾

او وبه وائى (مومنان په اخبار د محمد چه دوى) اوه دى او اتم د دوى سپى د دوى دى، ووايه (اى محمده! دوى ته) رب ځما ښه علم لرى په شمير د دوى نه پوهيږى په (شمير د) دوى مګر لږ (د خلقو) نو جګړه مه كوه (اى محمده!) په باب د دوى (يعنى اصحاب الكهف) كښى مګر جګړه ښكاره او فتوى مه غواړه په باب د دغو (اصحاب الكهف) كښى له دغو (كتابيانو) څخه له هيڅ يو (ځكه چه ته پخپله پرى خبر ئى په وحيه سره)

تفسير: يعنى په دى قسم غير معتد به خبرو كښى زياتى جګړى كول او ترديد، فضول او لاحاصل دى. د عدد په معلومولو پورى كوم اهم مقصود نه دى متعلق، هومره خبره چه الله تعالىٰ راښودلى ده له هغى څخه د زيات تحقيقاتو پسى لويدل او هغومره ترديد چه الله تعالىٰ فرمايلى دى له هغه څخه زيات ترديد او جګړى نښلول، فضول دى. ابن عباس رضى الله تعالىٰ عنه فرمائى

زه د هغو قلیلو کسانو څخه یم (چه هغوی د قرآنی سیاقه معلوم کړی دی چه) اصحاب الکهف هم دغه اوه تنه دی. ځکه چه الله تعالیٰ هغو پخوانیو دواړو اقوالو ته ﴿ رَجۡمًۢا بِٱلۡغَيۡبِ ﴾ وفرمایه او دریم قول سره ئی ونه فرمایل علاوه پر دی د بیان اسلوب هم بدل شوی دی په پخوانیو دواړو جملو کښی «عطفیه واو» نه وه او په دریم کښی شته. او د ﴿ وَثَامِنُهُمۡ كَلۡبُهُمۡ ﴾ په عطف سره له راوړلو څخه ګواکی دغی خبری ته زور ورکول مقصود دی چه د دغه قول قائل په پوره بصیرت او وثوق سره د واقعی له تفصیله واقف دی څینو د دی په تائید کښی دا هم ویلی دی چه پخوا له دی نه له ﴿ قَالَ قَآئِلٞ مِّنۡهُمۡ كَمۡ لَبِثۡتُمۡ ﴾ څخه د یوه تن قول راخرګند (ښکاره) شو. او له ﴿ قَالُواْ لَبِثۡنَا يَوۡمًا ﴾ الآیة - څخه پرته (علاوه) له هغه قائل څخه د دری تنو نورو قائلینو پته ولګیده له «قالوا ربکم اعلم، الایة» څخه برسیره په دوی د دریو تنو قائلینو ثبوت هم په لاس راځی او په دی دول (طریقه) اقلا لږ تر لږه ښائی دوی اوه تنه وی. چه سپی تری مستثنیٰ پاتی دی ځما نیکه مولانا مراد علی خان کاموی په خپل هغه قلمی تفسیر کښی چه په (۱۲۹۱) هـ ق کښی د خوګیانو په کړه کښی لیکلی دی او بیا په (۱۳٤۰) هـ کښی د لاهور په دین محمدی پریس کښی چاپ شوی دی د اصحاب الکهف اسماء داسی لیکلی دی: (۱) یملیخا (۲) مکسلمینا (۳) مسلمینا (دغه دری تنه د ښی لاس درباریان یعنی اصحاب الیمین دی) (٤) مرنوش (٥) دبرنوش (٦) شازنوس (دغه دری تنه د کیڼ لاس درباریان یعنی اصحاب الشمال دی) (۷) مرطونس هغه شپون دی چه دوی ته ئی د هغه سمڅ لار ښوونه وکړه او د دوی د نجات سبب شو د دوی د سپی نوم (قطمیر) او د دوی د باچا نوم (دقیانوس) او د ښار نوم (افیوس یا طرطوس دی).

---

وَلَا تَقُولَنَّ لِشَاْيۡءٍ إِنِّي فَاعِلٞ ذَٰلِكَ غَدًا ﴿٢٣﴾ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُۚ وَٱذۡكُر رَّبَّكَ إِذَا نَسِيتَ وَقُلۡ عَسَىٰٓ أَن يَهۡدِيَنِ رَبِّي لِأَقۡرَبَ مِنۡ هَٰذَا رَشَدٗا ﴿٢٤﴾

---

او مه وایه له سره په هیڅ باب کښی چه بیشکه زه کوونکی یم د دغه کار صبا مګر (متصل ورسره ووایه ای محمده!) که اراده فرمایلی وی الله او یادوه رب خپل کله چه دی هیر شی او ووایه (ای محمده! دوی ته) ښائی چه سمه صافه لیاره وښیی ماته رب ځما ډیری نژدی ته له دی نه له جهته د لیار ښوونی (او نیکه لیاره).

---

**تفسیر :** د «اصحاب الکهف» قصه په تاریخی کتابونو کښی له نادراتو څخه لیکلی شوی وه او هر سړی تری نه شو خبریدی. مشرکینو د یهودانو په لمسون له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دغه سوال وکړ چه له دغه پوښتنی څخه د دوی مقصود امتحان وو ځمونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم وعده وفرمایله چه صبا به ئی دروښیم ځکه متیقن ؤ چه جبرئیل علیه السلام به راځی او

زه به تری معلومات اخلم او دوی ته به ئی وایم، خو جبرئیل علیه السلام تر پنځلسو ورځو پوری رانغی رسول الله صلی الله علیه وسلم ډیر خفه او غمجن شو مشرکین په خندا او مسخرو لګیا شول بالاخر د الله تعالیٰ له جانبه دغه قصه ورته ولیږله شوه او په پای (اخر) کښې ئی نصیحت هم ورعلاوه شو چه وروسته له دی نه د هیڅ یوی خبری په نسبت بی د ﴿ إِن شَاءَ اللَّهُ ﴾ څخه نه ځانی چه وعده وفرمائی که کوم وقت له تانه هیره شی نو هر کله دی چه په یاد راشی ﴿ إِن شَاءَ اللَّهُ ﴾ ووایه! او امیدوار شه چه الله تعالیٰ به ستا درجه له دی نه لا زیاته کړی. یعنی هیڅ شی هیڅ کله به له تاسی هیر نشی «موضح القرآن» یا د «اصحاب الکهف» د واقعی څخه زیات په عجیب طور ستاسی حفاظت وفرمائی او فتح او بری به مو در په برخه کړی لکه چه د «ثور» په غار کښې وشو یا د کهف د واقعی څخه زیات عجیب واقعات او شواهد ستاسی له ژبی څخه وباسی چه خلقو ته ئی بیان کړی.

---

## وَلَبِثُوا فِي كَهْفِهِمْ ثَلَاثَ مِائَةٍ سِنِينَ وَازْدَادُوا تِسْعًا ﴿۲۵﴾

او مدت تیر کړی وو دغو (ځلمیو) په غار کښې دری سوه کاله (شمسی) او زیات کړی ؤ پری دوی نهه (قمری کلونه نور هم)

---

**تفسیر :** یعنی د شمسی په حساب پوره دری سوه کاله په هغه غار کښې ویده وو. او په قمری سره (۹) کاله نور زیات شو (په دغه کښې د ورځو او میاشتو کسور نه دی محسوب شوی) یا دری سوه کاله وروسته امکان لری چه لږ څه له خوبه ویښ شی او بیا تر نهو کلو پوری ویده پاتی شی. د ځینو علماؤ رأیه دا ده چه دغه (۳۰۹) کاله د دوی د ویښیدلو څخه بعد د محمدی عهد پوری مدت ئی بیان فرمایلی دی. یعنی له خلقو سره وروسته د لیدلو او ویلو بیا ویده شوی دی چه د دوی له دغه وروستنی ویښی څخه د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم تر زمانی پوری دومره مدت تیر شوی دی والله اعلم.
لطیفه د هندوستان د (زیشوان) په علاقه کښې یو سړی د دوه سوه او دوه پنځوس (۲۵۲) کلنی عمر کښې شته چه اوس د خپلی ځلیرشتمی (۲٤) ښځی سره ژوندون کوی.

---

## قُلِ اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا لَبِثُوا لَهُ غَيْبُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ أَبْصِرْ بِهِ وَأَسْمِعْ

ووایه (ای محمده! دوی ته) الله ښه عالم دی په مقدار د هغه مدت (چه دوی ځنډ (تاخیر) کړی وو په هغه کښې)، خاص هم ده لره دی پټ (اسرار) د آسمانونو او د ځمکی (او د ساکښینو او موجوداتو د هغو هم)، څه ښه لیدونکی دی الله (د هر موجود) او څه ښه اوریدونکی دی الله (د هر مسموع)،

**تفسير :** يعني مؤرخين د دوی د ويديلو او د بيا ويښيدلو مدت راز راز (قسم قسم) بيانوی خو له ګردو (تولو) څخه صحيح او صواب همغه ده چه الله تعالیٰ ئی ښيی ځکه چه د آسمان او د ځمکی د ګردو (تولو) پټو اسرارو علم هم له ده سره شته او هيڅ يو شی د ده د قدرت له ستر ګی څخه نه شی تيروتی.

مَا لَهُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَلِيٍّ وَلَا يُشْرِكُ فِي حُكْمِهِۦٓ أَحَدًا ﴿٢٦﴾

او نشته چيری دوی ته بی له دی نه هيڅ دوست (متولی د امورو) او نه شريکوی په حکم (قضاء) خپل کښی بل هيڅوک.

**تفسير :** يعنی همغسی چه د ده علم محيط دی د ده قدرت او اختيار هم پر ګردو (تولو) حاوی دی همغسی چه د ﴿لَهُۥ غَيْبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ﴾ په علم کښی هيڅوک له ده سره مل او شريک نه دی د قدرت په اختياراتو کښی هم هيڅوک له ده سره مل او شريک نشی کيدی.

وَٱتْلُ مَآ أُوحِيَ إِلَيْكَ مِن كِتَابِ رَبِّكَ لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِهِۦ
وَلَن تَجِدَ مِن دُونِهِۦ مُلْتَحَدًا ﴿٢٧﴾

او ولوله (ای محمده ! دوی ته) همغه چه وحی کړی شوی ده تاته له کتابه د رب د تا، نشته بدلوونکی د کلماتو د دغه (الله)، او له سره به نه مومی ته غير له دغه (الله) هيڅ ځای د پناه (که قصد ئی وکړی)،

**تفسير :** د «اصحاب الکهف» په قصه کښی ئی فرمايلی ؤ ﴿فَلَا تُمَارِ فِيهِمْ إِلَّا مِرَآءً ظَٰهِرًا وَلَا تَسْتَفْتِ فِيهِم مِّنْهُمْ أَحَدًا﴾ مطلب دا دی چه په بيکاره شيانو د زيات بحث او پلټنی (تحقيق) او مناقشی هيڅ ضرورت نشته. تاسی خپل د منصبی فرض په اتمام کښی مشغول او لګيا اوسئ! يعنی همغه جامع او مانع او کافی او شافی کتاب چه تاته ستا رب مرحمت فرمايلی دی، همغه ولوله! او خلقو ته ئی واوروه! کومی خبری چه الله تعالیٰ په دی کښی آورولی دی او همغه وعدی ئی چه فرمايلی دی هيڅ يو داسی طاقت نشته چه همغه واړوی. يا ئی بدل کړی، يا ئی بيرته وغورځوی، يا ئی غلطی ثابتی کړی که څوک د دغو خبرو تبديل پسی وی يا د دی کتاب د حقوقو په اداء کولو کښی قصور کوی همغه دی ښه وپوهيږی چه د الله تعالیٰ د مجرمانو دپاره په هيڅ يو ځای کښی د پناه ځای نشته. هو د وفادارانو د پناه ورکولو دپاره د همغه

رحمت وسیع دی (اصحاب الکهف) وګورئ کله چه دوی د الله تعالیٰ په خبرو ټینګ ولاړ وو نو دوی ته ئی څرنګه ښه ځای پخپل فضل او مرحمت سره ورعنایت کړ.

وَاصۡبِرۡ نَفۡسَكَ مَعَ الَّذِيۡنَ يَدۡعُوۡنَ رَبَّهُمۡ بِالۡغَدٰوةِ وَالۡعَشِىِّ يُرِيۡدُوۡنَ وَجۡهَهٗ

او صبر (بند او ټینګ) کړه نفس خپل له هغو کسانو سره چه بولی (عبادت کوی) د رب خپل په سبب (اول د ورځی) او بیګا (آخر د ورځی یعنی هر کله) غواړی دوی ذات (یا رضاء) د الله.

**تفسیر**: یعنی د ده د لقاء او رضاء د حصول په شوق کښی په نهایت اخلاص سره تل په عباداتو کښی مشغول اوسیږی. مثلاً ذکر کوی، قرآن لولی. پر خپلو لمونځونو مداومت کوی. د حلالو او حرامو تمیز کوی. د خالق او د مخلوق د دواړو حقوق پیژنی. اګر که د دنیوی حیثیته دوی معزز او مالدار نه دی، لکه په لویو اصحابو کښی په دغه وخت کښی حضرت عمار. صهیب. بلال. ابن مسعود خباب سلمان او نور رضوان الله تعالیٰ علیهم اجمعین نو داسی مخلصین مؤمنین له خپل صحبت او مجالست څخه تل مستفید وګرځوه او د هیچا په وئیلو او اورولو سره دوی د خپل مجلسه څخه مه بیلوه!.

وَلَا تَعۡدُ عَيۡنٰكَ عَنۡهُمۡ‌ۚ تُرِيۡدُ زِيۡنَةَ الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا‌ۚ

او نه دی تیریږی (وړاندی دواړه) سترګی ستا له دوی نه چه غواړی ته، زینت (ښائست) د دی ژوندون لږ خسیس،

**تفسیر**: یعنی د دغو غریبانو او مات زړو او بی وځلیو (کمزورو) مخلصینو مومنینو څخه له سره خپلی سترګی مه آړوه! او لویو لویو غټو متکبرانو دنیادارانو ته په دغه مقصد مه ګوره! چه د دوی د مسلمان کیدلو څخه به اسلامی دین دیر ښه رونق او ښائست مومی ځکه چه اسلامی اصلی عزت او رونق په مادی خوشحالی او د سپینو او سرو زرو په مسکوکاتو نه دی مضبوط. بلکه په ایمان او تقویٰ او اعلیٰ درجه ښو اخلاقو سره قائم دی. د دنیا تال او تیل، ښائست او سنګار بیخی فانی او د سیوری په شان تلونکی شی دی. حقیقی دولت خو ایمان. تقویٰ او تعلق مع الله دی چه هغه له سره ماتی او زوال نه لری. لکه چه د «اصحاب الکهف» په واقعه کښی د الله تعالیٰ د یاد کوونکو او د دنیا د طالبانو پای (اخر) او خاتمه معلومه شوه.

وَلَا تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهُ عَن ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ وَكَانَ أَمْرُهُ فُرُطًا ﴿٢٨﴾

او اطاعت مه کوه (مه اوره خبره) د هغه چا چه غافل کړی دی مونږ زړه د ده له ذکره ځمونږ او متابعت ئی کړی دی د هوا خپلی او دی کار د هغه تجاوز (له حقه او غورځول د حق شاته او تجاوز له حدود الله).

**تفسیر** : یعنی د هغو کسانو په خبرو تاسی له سره غوږ مه ږدئ او مه ئی اورئ چه د هغوی زړونه له حقه زاهل او په دنیوی نشو کښی مست او لایعقل او د الله تعالیٰ له یاده بیخی غافل دی. او تل د خپل نفس د خوښی او غوښتنی پسی مائل او رهی (روان) او لګیا دی. د الله تعالیٰ په عبادت کښی تکبر، لوبی، ځانمنی(خودنمائی)، هوا پرستی، تقدم او تعالی د دوی دود (رواج) او دستور دی. اګر که دوی ظاهراً ډیر بدایان (دولتمن)، د جاه او ثروت خاوندان هم وی. په روایاتو کښی راغلی دی چه د قریشو ځینو صنادیدو او غټانو ځمونږ رسول صلی الله علیه وسلم مبارک ته وویل «تاسی د خپلو شاؤ خوا څخه دغه فقراء، مسکینان خواران، غریبان چه ګرد (تول) سره اوپړه ګان (خوار) دی لری کړئ. څو مونږ غټان. مشران. لویان او سرداران تاسی سره کینو.» ګواکی مسلمانانو ته اوپړه (خوار) او کفارو ته ئی بدای او سردار وویل. ممکن دی چه د محمد صلی الله علیه وسلم په مبارک زړه کښی دغه خبره تیره شوی وی چه د دغو غریبانو په بیلولو کښی د لږ څه مدت دپاره څه حرج او مضائقه ده؟ دوی خو پاخه مسلمانان دی، مصلحت ته کلی نه به خپه کیږی او دغه غټان به په دغه وسیله سره اسلام قبلوی. نو په دغه مناسبت دا آیت نازل شو چه تاسی له سره د دغه متکبرانو دغه خبری مه آورئ! ځکه چه د دوی دغه غوښتنی بیخی چتی (فضول) او بیکاره دی په دوی کښی د حقیقی ایمان د قبلولو رنګ او استعداد نشته. نو بیا محض د موهومی فائدی دپاره د مخلصینو مسلمانانو د خاطر احترام ولی پریښودی شی. او هم د غټانو او غریبانو سره د دغسی معاملی له کولو څخه احتمال شته چه د عامو خلقو په زړونو کښی د رسول الله صلی الله علیه وآله وصحبه وسلم په نسبت ﴿مَعَاذَاللہ﴾ بدګمانی او نفرت پیدا شی چه د هغه ضرر له دی ضرر څخه به ډیر زیات وی چه اوس د دغو څو تنو متکبرو د اسلام د نه قبلولو په صورت کښی تصور کاوه شی!.

وَقُلِ الْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ فَمَن شَاءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَاءَ فَلْيَكْفُرْ

ووایه (ای محمده! دوی ته اسلام قرآن) حق دی له رب ستاسی، پس هر څوک چه اراده (د ایمان) وکړی نو ایمان دی راوړی! او هر څوک چه اراده (د کفر) وکړی نو کافر دی شی.

**تفسیر :** یعنی د الله تعالیٰ له جانبه رښتیا رښتیا خبری اورولی شوی دی. الله تعالیٰ د چا د منلو او د نه منلو هیڅ پروا نه لری هر څه نفع یا نقصان چه پیښیږی هغه به یواځی ستاسی وی منونکی، او نامنونکی له هر یوه سره د هغه خپل عمل د لاری مل وی. او هغوی دواړه دی خپل هغه عاقبت او خاتمی ته ښه ځیر شی او فهم دی ورته وکړی چه وروسته بیانیږی. خالص دنیوی عیش او عشرت خوشی چتی (بیکاره) او فانی دی. او دنیوی مزی او چرچی هلته ښی او خوندوری کیدی شی. چه د اخروی فلاح او نجات وسیله وګرځی. هو! یواځی دنیوی تمول په کار نه راځی. بلکه هغه کسان چه په دغه جهان د اسلام په حالت خواروزار او پریشان دی په هغه جهان کښی به خوښ او خوشال او فرحان او په عیش او عشرت او آرام کښی وی. امام زاهدی رحمة الله علیه ویلی دی له دغه امر څخه مراد وعید او تهدید یعنی ویرول او زورول دی نه اباحت او اجازت ځکه چه بیا ئی داسی فرمایلی دی.

---

إِنَّآ أَعْتَدْنَا لِلظَّٰلِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا ۚ وَإِن يَسْتَغِيثُوا۟ يُغَاثُوا۟ بِمَآءٍ كَٱلْمُهْلِ يَشْوِى ٱلْوُجُوهَ ۚ بِئْسَ ٱلشَّرَابُ وَسَآءَتْ مُرْتَفَقًا ﴿٢٩﴾

---

بیشکه چه مونږ تیار کړی مودی لپاره د ظالمانو (کافرانو داسی) اور چه چاپیر شوی دی له دوی پردی د هغه (چه هغه پردی به هم د اور وی)، او که فریاد وکړی (دوی له تندی) نو فریاد به ئی واخیستی شی (په ورکولو د داسی) اوبو (سره) لکه زوی (یا د تیلو خټ) چه وریتوی به مخونه، بد څیز د څښلو دی (دغه زوی)، او بد دی (دغه اور ځای د آرام یا) له وجی د انتفاع.

---

**تفسیر :** یعنی د ګرمی له شدته به تږی کیږی نو «العطش! العطش!» ناری وهی نو د تیلو تلچټ (خیری) یا د زوو په شان اوبه دوی ته ورکولی کیږی چه د سخت تودوالی او د تندی له سببه د دوی خوله او کولمی به سره تول وریتی او تناکی وهی.

---

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ مَنْ أَحْسَنَ عَمَلًا ﴿٣٠﴾

---

بیشکه هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه) بیشکه مونږ نه ضائع کوو اجر (ثواب) د هغه چا چه ډیر نیک وی له جهته د عمل،

**تفسیر :** یعنی له ادنیٰ ځنی ادنیٰ نیکی هم نه ورک کیږی او پوره بدل به ورکړی شی.

أُولَٰئِكَ لَهُمْ جَنَّاتُ عَدْنٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهِمُ الْأَنْهَارُ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ

دغه (مؤمنان چه دی) شته دوی ته (هسی) جنتونه د تل هستوګنی چه بهیږی له لاندی (د ونو او مانیو) د دوی (ځلور قسمه) ویالی په لاس به کاوه شی دوی ته په دغه جنت کښی وښی له سرو زرو (ځو وښوولی شی چه اصلی او دائمی دولتمن او باثروته کوم سړی دی؟)

**تفسیر :** هغه ځوک چه تش د سرو زرو او سپینو زرو او ښو کالیو خاوندان دی یا هغو چه ورسره مسلمانان او د ښو اعمالو خاوندان، یا سره له اسلامه او حسنه اعمالو فقیران او بی وځلی (بی وسه) دی. د سرو زرو باهوګانو او وریښمنی جامی او هم داسی د جنت پر ګردو (تولو) نعمتونو او کیفیاتو باندی نه مونږ او نه بل ځوک پوهیدی شی چه ځمونږ له فهمه دیر لوړ او په محسوساتو کښی د هغه موطن کوم خاص او پوره مثال نه دی موجود.

وَيَلْبَسُونَ ثِيَابًا خُضْرًا مِنْ سُنْدُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ

او اغوندی به دغه (جنتیان) جامی زرغونی له نریو وریښمو او له پریړو (غتو) وریښمو.

**تفسیر :** ښائی چه مخ ئی د نریو وریښمو او استر ئی د پریړو (غتو) وریښمو شخه وی کما یفهم من قوله تعالیٰ ﴿ بَطَائِنُهَا مِنْ إِسْتَبْرَقٍ ﴾ جزء (۲۷) (د الرحمٰن (٥٤) آیت ۳ رکوع) یا دواړه قسمونه به سره بیل بیل استعمالیږی والله اعلم. په «موضح القرآن» کښی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه سره زر او ریښمین کالی نارینه ؤ ته په جنت کښی ور رسیږی هر ځوک ئی چه دلته واغوندی هلته به ئی نه آغوندی.

مُتَّكِئِينَ فِيهَا عَلَى الْأَرَائِكِ ۚ نِعْمَ الثَّوَابُ وَحَسُنَتْ مُرْتَفَقًا ﴿٣١﴾

تکیه کوونکی به وی په دغه جنتونو کښې پر تختو باندې، ښومره ښه بدل دی (دا جنتونه او نعمتونه) او ښومره ښه دی (دا جنتونه او نعمتونه) ځای د آرام.

**تفسیر :** یعنی پر ښو چپرکتو او پالنګونو تکیه لګولې په نهایت عزت او احترام سره به ناست وی.

وَاضۡرِبۡ لَهُمۡ مَّثَلًا رَّجُلَيۡنِ

او وښیه بیان کړه ته دوی ته یو مثال (د کفارو او مومنانو هغه) دوه سړی.

**تفسیر :** دغه ئې د غنی کافر او فقیر مؤمن مثال بیان وفرمایه چه د هغه په ضمن کښې د دنیا بې‌ثباتی. او د کفر او تکبر بدانجامی. او د ایمان او تقویٰ پر مقبولیت باندې تنبیه ده. دغه دواړه سړی چه د هغوی مثال بیان شوی دی په واقعی ډول (طریقه) سره موجود وو؟ یا محض د تفهیم دپاره دغه مثال فرض کړی شوی دی. د علماؤ په دغه مورد کښې دوه قوله دی او د تمثیلو فائده په هر حال کښې حاصله ده.

جَعَلۡنَا لِأَحَدِهِمَا جَنَّتَيۡنِ مِنۡ أَعۡنَٰبٖ وَحَفَفۡنَٰهُمَا بِنَخۡلٖ وَجَعَلۡنَا بَيۡنَهُمَا زَرۡعٗا ۳۲

چه ګرځولی (ورکړی وو) مونږ یو له دی دواړو ته دوه باغونه. له انګورو (تاکونه) او پټ کړی وو مونږ دا باغونه په خرماؤ سره او پیدا کړی وو مونږ په منځ د دی (دواړو باغونو) کښې کښت (فصل).

**تفسیر :** یعنی د دغو باغونو په چار چاپیر د کجورو (خرماؤ) ونی کینولی شوی دی او د دواړو باغونو په منځ کښې ځمکه د زراعت دپاره تخصیص ورکړی شوی ده خو غله او میوه (قوت او فواکه) ګرد (تول) تیار له همغه باغ څخه حاصل واخلی.

كِلۡتَا ٱلۡجَنَّتَيۡنِ ءَاتَتۡ أُكُلَهَا وَلَمۡ تَظۡلِم مِّنۡهُ شَيۡـٔٗا

دی دواړو باغونو ورکول به ئی میوی خپلی (پوره) او نه به ئی کاوه ظلم

(کموالی) له محصوله خپله هیڅ قدر.

**تفسیر :** یعني داسې نه ؤ چه یو باغ به ښه وده (نشونما) او ښه حاصل ورکوه او بل نه ورکاوه او بې حاصل او بېوده پاتې ؤ یا په یوه کښې ډیرې ونې وې او په بل کښې کمې.

وَفَجَّرْنَا خِلٰلَهُمَا نَهَرًا ﴿۳۳﴾

او بهولې وه مونږ په منځ د دې دواړو باغونو کښې ویاله،

**تفسیر :** یعني د دغو باغونو په منځ کښې د اوبو ویاله په ډیر ښه وضعیت سره چار چاپیر بهیده او منظره ئې ډیر ښکلې او فرحت زیاتوونکې او ښائسته کړې وه. او که کله نا کله چه باران هم نه کیده خو بیا هم د دغو باغونو طراوت او زرغونتیا د دغو اوبو په سبب به پخپل حال پاتې کیده او د تندې خرابي او د وچوالي هیڅ ویره او اندیښنه به ورسره نه وه.

وَّكَانَ لَهٗ ثَمَرٌ ۚ

او ؤ ده ته (نورې) میوې،

**تفسیر :** یعني هر څه چه ئې لګولې ؤ یا ئې ګنلې ؤ د هغه ثمره او نتیجه ئې په ښه دول (طریقه) سره وموندله او د عیش او رفاهیت هر قسم سامان جمع شو، نکاح ئې چه وکړه د هغې نتیجه او ثمره هم ورته ښه شوه او د ډیرو اولادونو پلار شو.

فَقَالَ لِصَاحِبِهٖ وَهُوَ يُحَاوِرُهٗٓ اَنَا اَكْثَرُ مِنْكَ مَالًا وَّاَعَزُّ نَفَرًا ﴿۳۴﴾

پس وویل دغه (کافر) هغه (مؤمن) ملګرې خپل ته حال دا چه هغه ورسره خبرې کولې (په افتخار سره) چه زه زیات یم له تانه له جهته د مال او ډیر عزتناک یم له جهته د سړیو.

**تفسیر :** یعني مال، دولت، ملاتړ، سرې ماسره له تا نه زیات دی که زه د شرک او کفر په اختیارولو کښې په باطل وی نو دومره مال، دولت او هوسائي (آرام) به ولې ځما په برخه کښې

کیده؟ د ده د شرک ثبوت له دی نه په لاس راځی چه د آفت د رسیدلو څخه ئی وروسته په تأسف او ارمان سره وویل ﴿ يٰلَيْتَنِيْ لَمْ اُشْرِكْ بِرَبِّيْٓ اَحَدًا ﴾ معلومیږی چه د هغه غریب ملګری چه پوخ موحد ؤ د شرک د بطلان اظهار، او له شرک څخه د توبی کولو نصیحت به ئی ورته کاوه چه د هغه په جواب کښې ئی داسی ورته وویل چه زه له تانه په مال، اولاد، سری، ملاتړ او هر څیز کښې زیات یم. نو څرنګه به یقین وکړم چه زه پر باطل یم او تا غوندی مفلس او ناداره به په حق وی؟.

وَدَخَلَ جَنَّتَهٗ وَهُوَ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ ۚ

او ننوت دی باغ خپل ته حال دا چه دی ظالم ؤ پر ځان خپل (په سبب د فخر او تکبر او کفر)

**تفسیر** : یعنی په شرک کښې مبتلا ؤ. د کبر او غرور په نشو د ده دماغ ډک ؤ. نورو ته به ئی په سپکه سره کتل او حقیر به ئی ګڼل. او د الله تعالیٰ پر قدرت او جبروت به ئی نظر نه ؤ. او نه په دی پوهیده چه وروسته به ئی انجام څه کیږی؟ هم دغه باغ د ده جنت ؤ چه هغه به ئی خپل ابدی خیر ګڼلو.

قَالَ مَآ اَظُنُّ اَنْ تَبِيْدَ هٰذِهٖٓ اَبَدًا ﴿۳۵﴾ وَّمَآ اَظُنُّ السَّاعَةَ قَآئِمَةً ۙ وَّلَئِنْ رُّدِدْتُّ اِلٰى رَبِّيْ لَاَجِدَنَّ خَيْرًا مِّنْهَا مُنْقَلَبًا ﴿۳۶﴾

وویل چه زه نه کوم ګمان چه هلاک (خراب) به شی دغه باغ (زما) هیچیری او نه کوم زه ګمان په قیامت چه قائم (واقع) به شی او قسم دی خامخا که بوتلی شم (په ګمان ستا) رب خپل ته (پس له بیا ژوندون) نو قسم دی چه هرومرو (خامخا) به مومم خامخا غوره له دی باغ څخه مرجع.

**تفسیر** : یعنی اوس خو په آرام سره تیریږی. او ګرد (ټول) انتظامات می داسی مکمل کړی دی چه زما تر ژوندانه پوری د دغو باغونو د تباه او خرابیدلو کومه ظاهری اندیښنه نشته. پاتی شوه د بعث بعد الموت قصه، نو اول زه یقین نه لرم چه د مړ کیدلو څخه وروسته د هډوکی بخرکی ته بیا دوهم ځلی نوی ژوند په برخه کیږی؟ او مونږ به د پاک الله په مخ کښې وړاندی کیږو. لیکن که هم داسی وشو نو یقیناً ماته به له دی نه ښه او بهتر سامان هلته هم راورسیږی. که زمونږ دغه حرکات د الله تعالیٰ خوښ نه وی نو په دغه دنیا کښې به ئی ولی دومره وسعت او

راحت را په برخه کړی وی؟ ګواکی د دی دنیا راحت او هوسائی (آرام) د هغه جهان په خوښی او هوسائی (آرام) باندی دلیل دی چه زه به هلته هم مزی او چړچی کوم.

قَالَ لَهُ صَاحِبُهُ وَهُوَ يُحَاوِرُهُ أَكَفَرْتَ بِالَّذِي خَلَقَكَ مِن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ سَوَّاكَ رَجُلًا ﴿٣٧﴾ لَّٰكِنَّا هُوَ اللَّهُ رَبِّي وَلَا أُشْرِكُ بِرَبِّي أَحَدًا ﴿٣٨﴾

وویل دغه (کافر) ته (مؤمن) ملګری د ده حال دا چه دغه مومن خبری اتری کولی له دغه کافرسره آیا کافر شوی پر هغه (ذات) چه پیدا کړی ئی ته (په اول کښی) له خاوری بیا ئی له نطفی بیا ئی برابر کړی ته سړی (روغ په اندامونو). لیکن زه وایم شان دا دی چه الله رب ځما دی او نه شریکوم زه له ربه خپله سره هیڅوک.

**تفسیر** : یعنی هغه الله تعالیٰ چه ستا اصل آدم علیه السلام ئی له بی ځانه خاوری څخه. بیا ته ئی د ځمکی د حاصلاتو له خلاصی او له یوه څاڅکی ناڅیزه اوبو څخه پیدا کړی ئی او ژوندون ئی دربښلی دی او روحانی او جسمانی قوتونه ئی درکړی دی او لوی غټ انسان ئی در څخه پیدا کړی دی نو آیا ته له دی نه انکار لری چه هغه به دی وروسته له مرګه بیا ژوندی کوی؟ یا دغه درکړی نعمت به له تانه بیرته نشی اخیستلی؟ زما عقیده خو داسی نه ده. بلکه زه پوره یقین لرم چه هم هغه لوی ذات یواځی زمونږ رب دی. د ده په الوهیت کښی بل هیڅوک شرکت نه لری او د ده د حکم او ارادی په مقابل کښی هیڅوک هیڅ شی نشی ویلی او کولی او نه خپله سا اخستی شی.

وَلَوْلَا إِذْ دَخَلْتَ جَنَّتَكَ قُلْتَ مَا شَاءَ اللَّهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ

او ولی نه په هغه وقت کښی چه ننوتی باغ خپل ته ویل تا (یعنی په هغه وقت کښی چه ننوتی خپل باغ ته ولی دی داسی نه ویل( هغه چه اراده وفرمائی الله (هغه کیږی) نشته قوت (هیچا لره په هیڅ کار) مګر په توفیق) د الله.

**تفسیر** : یعنی مال د الله تعالیٰ نعمت دی خو د غرور، تکبر او ځانمنی (خودنمائی) او د کفر ویلو څخه آفت نازلیږی. لازم او ښه خو داسی ؤ چه د باغ د داخلیدلو په وقت دی د ﴿ مَآ أَظُنُّ أَن تَبِيدَ هَٰذِهِۦٓ أَبَدًا ﴾ په ځای ﴿ مَا شَآءَ ٱللَّهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِٱللَّهِ ﴾ ویل یعنی د هر هغه څیز چه الله تعالیٰ

اراده وفرمائی عطا کوی ئی. څه زور او قوت چه په مونږ کښې شته هغه د ده له امداد او اعانته راحاصل دی. که الله تعالیٰ اراده وفرمائی نو په یوه شپه کښې هغه ګرد (تول) سلب او بیرته ئی اخلی. په روایاتو کښې راغلی دی. هر مهالی (وخت) چه انسان پخپل کور کهول او نور ځای کښې په خوښی، آرام سره ځان مومی نو هم دغه لفظ دی ووائی ﴿ مَاشَآءَ اللّٰهُ لَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ ﴾

اِنْ تَرَنِ اَنَا اَقَلَّ مِنْكَ مَالًا وَّوَلَدًا ﴿۳۹﴾ فَعَسٰی رَبِّیْٓ اَنْ یُّؤْتِیَنِ خَیْرًا مِّنْ جَنَّتِكَ وَیُرْسِلَ عَلَیْهَا حُسْبَانًا مِّنَ السَّمَآءِ فَتُصْبِحَ صَعِیْدًا زَلَقًا ﴿۴۰﴾ اَوْ یُصْبِحَ مَآؤُهَا غَوْرًا فَلَنْ تَسْتَطِیْعَ لَهٗ طَلَبًا ﴿۴۱﴾

که ته وینی ما چه زه لږ یم له تانه د جهته د ماله او ولده (ځوی او لور). پس (امید لرم چه ژر دی چه) رب ځما راکړی ماته (په دنیا په آخرت کښې خیر) بهتره له باغ ستا او چه ولیږی پر دغه (باغ ستا) تندر له (طرفه د) آسمانه پس صبا ته وګرځی (باغ ستا) ډاګ میدان ښویی (چه ښوئیږی پری سړی) بی زرغونه یا صبا ته وګرځی اوبه د دی باغ وچی ډوبی پس له سره به نه توانیږی (نه شی راوستی) دی ډوبو اوبو لره په لټولو سره.

**تفسیر :** یعنی یوه توده بوربوړکی (ګرد باد) والوزی یا بل کوم سماوی آفت نازل شی چه ستا د دغه تکبر او غرور د نتائجو په سزا کښې ستا دغه باغ ډاګ دبر او سپیره او تری صاف میدان جوړ کړی. یا د دغی ویالی اوبه وچی شی. او بیا سره له ډیر زیار (محنت) ایستلو او کوښښ اوبه پکښې ونه بهیږی.

وَاُحِیْطَ بِثَمَرِهٖ فَاَصْبَحَ یُقَلِّبُ كَفَّیْهِ

او چاپیر کړی شو په انواعو د میوو د هغه (باغ یا سړی یعنی هلاک شو) پس وګرځید په وقت د سبا کښې چه اړوه ئی څټ او مخ د ارغویو خپل (له خپګانه)

**تفسیر :** یعنی د حسرت او افسوس لاسونه به ئی سره مښل. او هک پک پاتی ؤ.

عَلٰى مَآ اَنۡفَقَ فِيۡهَا وَهِىَ خَاوِيَةٌ عَلٰى عُرُوۡشِهَا

پر هغه مبلغ چه لګولی ؤ پر دغه باغ حال دا چه دغه باغ لویدلی ؤ پر څیلو (مناګانو د تاکو کورو) خپلو.

**تفسیر :** حضرت شاه صاحب لیکی «آخر د ده پر باغ باندی هم هغسی وشوه چه د دغه بنه سړی له خولی څخه وتلی ؤ په شپه کښی سماوی آفت د اور په صورت راغی او ګرد (تول) باغ ئی وسوځوه او د ایری ډیرۍ ئی تری جوړه کړه. مال ئی لګولی ؤ د پنګی (راس المال) د تزئید دپاره خو پنګه او ګټه اصل او فرع دواړه ئی له لاسه ووتل».

وَيَقُوۡلُ يٰلَيۡتَنِىۡ لَمۡ اُشۡرِكۡ بِرَبِّىۡۤ اَحَدًا ﴿۴۲﴾

او وائی ای کاشکی ما نه وی نیولی شریک رب خپل سره هیڅوک (څو می دغه باغ نه وی وران شوی).

**تفسیر :** مګر څه په کار دی اوس ژړا او انګولا لوښی مات او غوړی توی شو په بیدیا. او دغه افسوس او ندامت هم د الله تعالیٰ له ویری نه ؤ بلکه تش د دنیوی ضرر رسیدلو په بناء ؤ.

وَلَمۡ تَكُنۡ لَّهٗ فِئَةٌ يَّنۡصُرُوۡنَهٗ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ وَمَا كَانَ مُنۡتَصِرًا ﴿۴۳﴾

او نه ؤ ده ته کومه ډله چه مدد ئی کړی وی له ده سره (په دفع د آفت کښی) غیر له الله او نه ؤ دی پخپله مددګار د خپل ځان (په دفع د هلاک کښی)،

**تفسیر :** یعنی نه ئی ګوند (پارتی) او ډله په کار ورغله. نه اولاد او نه هغه فرضی معبود چه له الله تعالیٰ سره ئی شریک درولی ؤ. او نه ده پخپل ذات کښی دومره طاقت او توان درلود (لرلو) چه د الله تعالیٰ د عذاب مخه ونیسی یا خپل بدل واخیستی شی.

هُنَالِكَ الۡوَلَايَةُ لِلّٰهِ الۡحَقِّ ؕ هُوَ خَيۡرٌ ثَوَابًا وَّخَيۡرٌ عُقۡبًا ﴿۴۴﴾

په دی وقت کښی ګرد (تول) ولایت اختیار خاص الله لره حق دی، الله خیر (غوره) دی له جهته د ثواب او خیر (غوره) دی له جهته د عاقبته (او بدل

ورکولو خپلو دوستانو لره).

تفسیر : یعنی د هر عمل هر بدل چه دی ورکری هغه درست دی، دلته او هلته په هر ځای کښې د هم ده واک او اختیار چلیږی او هیڅوک هیڅ طاقت او توان نه لری چه د ده په حکم او فیصله کښې څه مداخله وکړی یا څه ګوتې پکښې ووهی.

وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا كَمَآءٍ اَنْزَلْنٰهُ مِنَ السَّمَآءِ فَاخْتَلَطَ بِهٖ نَبَاتُ الْاَرْضِ فَاَصْبَحَ هَشِيْمًا تَذْرُوْهُ الرِّيٰحُ ؕ

او وښیه بیان کړه دغو (خلقو) ته مثال د دی ژوندون لږ خسیس په تازګی او سرعت د زوال کښې) په مثل د هغو اوبو چه نازلی کړی دی مونږ هغه اوبه له (طرف د) آسمانه نو ګډې یو بل سره ګډوډ شی په سبب د دی (اوبو) سره زرغونه د ځمکی نو صبا ته وګرځی (دغه زرغونه) وچه کلکه ماته ماته چه الوځوی ئی بادونه،

تفسیر : یعنی د دنیا د دغه عارضی پسرلی او د فانی او سریع‌الزوال ښایست او سینګار مثال داسی وګڼئ چه پر وچه او مړه ځمکه د باران اوبه ولویږی او هغه یو په یو تکه شنه او ژوندی شی او پر ګنو شینکیو او ونو ښائسته شی. او مختلفی ترکودی (نباتات) ځنی خارج او مخلوط او ګډه وډه زرغونتیا پکښې پیدا شی، دیر ښائسته او ښکلی کښت (فصل) ئی په سترګو کښې دیر ښه ښکاره شی. مګر څو ورځی وروسته هغه تک زیر واوړی او په وچیدلو او رژیدلو باندی شروع وکړی. بالاخر په یوه وقت ګرد (تول) سره لو او قطع او پری او وریبل شی او بیا توته توته او بوس بوس کړی شی. او په هوا کښې والوځولی شی. د دنیا د سترګو غولوونکی او ناپوهان تیرایستونکی ښائست او سینګار هم داسی وګڼی چه د څو ورځو له مخی دیر ښکلی او زړه وړونکی په نظر راځی. بالاخر ذری ذری او په هوا کښې والوځی او ګرد (تول) سره لری او پری شی. او داګ ډبر صاف میدان تری پاتی شی لکه چه وروسته په ﴿ وَيَوْمَ نُسَيِّرُ الْجِبَالَ وَتَرَى الْاَرْضَ بَارِزَةً ﴾ کښې اشاره کړی شوی ده.

وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ مُّقْتَدِرًا ۝٤٥

او دی الله پر هر څیز باندی (چه اراده وفرمائی) توانا قادر (چه ځینی د هغو انشاء او افنا دی).

**تفسیر :** یعنی هر کله چه اراده وفرمائی ژوندی ئی کړی (موضح القرآن) یا دا چه زرغونول او ذری ذری کول او آلوځول، ګرد (تول) د ده په واک (اختیار) او قدرت کښی دی.

اَلْمَالُ وَ الْبَنُوْنَ زِیْنَةُ الْحَیٰوةِ الدُّنْیَاۚ وَ الْبٰقِیٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَیْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَّ خَیْرٌ اَمَلًا ﴿۴۶﴾

مال (د دنیا) او ځامن (چه پکښی اخروی مفاد نه وی) زینت (رونق) ښائست د دی ژوندون لږ خسیس دی، او (په اعتبار د جزاء) باقی پاتی کیدونکی نیک (عملونه) خیر غوره دی په نزد د رب ستا له جهته د ثوابه او (خیر) غوره دی له جهته د امید.

**تفسیر :** یعنی وروسته له مرګه مال او اولاد او نور هیڅ په کار نه راځی او یواځی هغه نیک کارونه په کار راځی چه د هغو اثر یا ثواب مستقبل ته پاتی کیدونکی وی. په حدیث کښی دغه کلمات طیبات **(سبحان الله ولا اله الا الله والله اکبر ولا حول ولا قوة الا بالله)** له باقیات الصالحات څخه فرمایلی شوی دی. دغه محض د مثال په دول (طریقه) دی. که نه ګرد (تول) حسنه اعمال په دی کښی داخل دی. په «موضح القرآن» کښی دی ﴿ وَالْبٰقِیٰتُ الصّٰلِحٰتُ ﴾ دا دی چه داسی یوه علم ښوونه وکړی چه جاری وی یا کومه نیکه طریقه وچلوی، یا مسجد، یا کوهی، یا سرای، یا باغ یا کومه مزرعه وقف کړی، یا خپل اولاد ته ښه تعلیم او تربیه ورکړی، او وروسته له خپله دغه صالح ولد پریږدی، نو دغه ګرد (تول) داسی ښه اعمال دی چه پر هغو باندی د الله تعالیٰ له جانبه ښه بدل موندلی کیدی شی. او انسان پری عمده توقعات قائمولی شی. د دنیا پر فانی او زائل خوشالی طویل او عریض امیدونه تړل د عقل او هوش کار نه دی.

وَیَوْمَ نُسَیِّرُ الْجِبَالَ وَ تَرَی الْاَرْضَ بَارِزَةً ۙ

او (یاد کړه) هغه ورځ چه وران به کړو غرونه او ګوری به ته (ای انسانه!) ځمکه ښکاره (صاف میدان)

**تفسیر :** یعنی کله چه قیامت راشی نو د غرونو پشان سخت مخلوق هم له خپله ځایه آلوځولی شی بلکه دغه لوی او درانه غرونه هم لکه تکولی شویو وړیو غوندی په هوا کښی سره ګرځی او آلوځی الغرض د ځمکی دغه ګردی (تولی) لوړی او ژوری (نشیب وفراز) به سره سمی برابری

او ځمکه به له یوه سره تر بله سره پوری صاف، هوار میدان شی.

وَّحَشَرْنٰهُمْ فَلَمْ نُغَادِرْ مِنْهُمْ اَحَدًا ﴿۴۷﴾

او راجمع به کړو (مونږ) دوی (یعنی خلق) نو پری به نه ږدو له دوی نه یو تن هم (نه له اولینو او نه له آخرینو).

تفسیر : یعنی هیڅ یو تن هم د الله تعالیٰ له درباره غیر حاضر کیدی نشی.

وَعُرِضُوْا عَلٰی رَبِّكَ صَفًّا ؕ لَقَدْ جِئْتُمُوْنَا كَمَا خَلَقْنٰكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ ؗ بَلْ زَعَمْتُمْ اَلَّنْ نَّجْعَلَ لَكُمْ مَّوْعِدًا ﴿۴۸﴾

او وړاندی به کړی شی دوی په رب ستا صف صف (او وبه ویلی شی دغو صفوفو ته) خامخا په تحقیق راغلئ تاسی مونږ ته (یواځی لغړ بربند) لکه چه پیدا کړی وئ مونږ تاسی ړومبی ځلی (له خپلی موره په دی شان سره) بلکه ګمان کاوه تاسی (ای منکرینو د بعث) چه وبه نه ګرځوو مونږ تاسی ته ځای او وقت د وعدی.

تفسیر : د بعث منکرینو ته به د تقریع او توبیخ په دول (طریقه) وویلی شی چه تاسی خو قیامت او نوری ایمانی خبری چتی (بیکاره) او دروغ ګڼلی نو نن تاسی هغه ګرد (تول) دنیوی ساز سامان او اثاثه چیری پریښی؟ او دغسی لوڅ لغړ چیری درومئ؟ او «لکه چه مو پیدا کړی وئ ړومبی ځلی» دغه هم داخل دی چه پر بدن به هم څه زخم او نقصان او بل شی نه وی. په حدیث کښی راغلی دی چه په قیامت کښی به ګرد (تول) صفوف یو سل او شل صفونه وی چه له هغه څخه به اتیا صفونه د محمدی صلی الله علیه وسلم امت وی.

وَوُضِعَ الْكِتٰبُ فَتَرَى الْمُجْرِمِيْنَ مُشْفِقِيْنَ مِمَّا فِيْهِ

او کیښودلی به شی کتاب (اعمالنامی په لاسونو د خلقو) پس ګوری به ته ګناهګاران ویریدونکی له هغه نه چه پکښی (لیکلی) دی (له ګناهونو).

**تفسیر** : یعنی د هر یوه اعمالنامی ورکولی کیږی، دوی به په هغه کښی د خپلو اعمالو فهرست (نوم لیک) ولولی. او مجرمین به له خپلو گناهونو سخت ویرېږی او وائی به خدای پوهېږی چه نن څرنگه سختی سزاوی رارسیږی؟.

وَيَقُولُونَ يَٰوَيۡلَتَنَا مَالِ هَٰذَا ٱلۡكِتَٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةٗ وَلَا كَبِيرَةً إِلَّآ أَحۡصَىٰهَاۚ وَوَجَدُواْ مَا عَمِلُواْ حَاضِرٗاۗ

او وائی به ای هلاکه زمونږ (راشه دغه دی وقت دی) څه حال دی د دی اعمالنامی (ځمونږ) چه نه پرېږدی (گناه) وړه او نه لویه (گناه ځمونږ) مگر چه حساب کړی ئی دی هغه (تولی)، او وبه مومی دوی هغه څیز چه کړی وی (په دنیا کښی په خپل مخ کښی) حاضر (لیکلی په اعمالنامه کښی)،

**تفسیر** : یعنی د ذری ذری عمل به ئی تر سترگو لاندی وی او هره یوه وړه او لویه نیکی او بدی به په دغه اعمالنامه کښی مندرجه او لیکلی مومی.

وَلَا يَظۡلِمُ رَبُّكَ أَحَدٗا ﴿٤٩﴾

او نه کوی ظلم رب ستا پر هیچا (چه کومه گناه ئی نه وی کړی او وئی لیکی).

**تفسیر** : د الله تعالیٰ په دربار کښی ظلم په دغه معنی له سره امکان نه لری چه معاذ الله د غیر په ملک کښی تصرف وکړی ځکه چه گرد (تول) مخلوق د ده مملوک دی. لیکن هغه ظلم چه ظاهراً په نظر راځی او بی موقعه کار گڼلی کیږی دی هغه هم نه کوی نه څوک بی قصوره نیسی، نه د چا یوه ادنیٰ نیکی پرېږدی چه ضائع شی، بلکه پخپل بالغه حکمت سره د نیکی او د بدی له هری ونی څخه همغه میوه راوباسی چه د هغه د نوعیه طبیعت اقتضاء ده. په کفر او په ایمان او په طاعت او معصیت کښی خالق الکل داسی بیل بیل خواص او تأثیرات ایښی دی لکه چه په زهرو او په تریاقو کښی دی په آخرت کښی به د دغه خیر او شر دغه گرد (تول) خواص او آثار په علانیه ډول (طریقه) سره څرگندیږی (ښکارېږی).

د عمل له مکافاته غافل مشه! له غنمو غنم کیږی له اربشو نه اربشه.

وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوٓا إِلَّآ إِبْلِيسَ كَانَ مِنَ الْجِنِّ فَفَسَقَ عَنْ أَمْرِ رَبِّهِۦٓ ۗ أَفَتَتَّخِذُونَهُۥ وَذُرِّيَّتَهُۥٓ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِى وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌّۢ ۚ بِئْسَ لِلظَّٰلِمِينَ بَدَلًا ﴿٥٠﴾

او (یاد کړه) هغه وقت چه وویل مونږ پرښتو ته چه سجده وکړئ تاسی (تعظیماً) آدم ته پس سجده وکړه (تولو) مګر (ونه کړه سجده) ابلیس، وه دی (اصلاً) له پیریانو پس ووت له امره د رب خپل (په ترک د سجدی)، آیا پس نیسئ تاسی ابلیس او اولاده د دغه (ابلیس) دوستان (چه خبره ئی منئ) غیر له ما حال دا چه دی دغه (شیاطین) تاسی ته دښمنان، بد دی (ابلیس) ظالمانو ته بدل (له الله چه شیطان منی او رحمٰن نه منی).

**تفسیر :** راجح هم دا ده چه ابلیس د پیریانو له نوعی ؤ ده په عبادت کښی ترقی وکړه او د پرښتو په ډله کښی شامل شو نو ځکه کوم حکم چه پرښتو ته د سجود وشو هغه ته هم وشو په دغه وقت کښی د ده اصلی طبیعت او سرکشی او غرور د طینت ښکاره شو. او له ډیره تکبره د الله تعالیٰ د حکم منلو څخه ئی غاړه وغړوله او د آدم په مخ کښی سجده کول ئی خپل د شان کسر وګانه تعجب دی چه نن د آدم اولاد د خپل رب په ځای هغه ازلی دښمن او د ده اولاد او اتباع خرنګه خپل رفیق ملګری، خیر غوښتونکی او دوست دروی؟ آیا له دی نه به بل کوم ظلم او بی انصافی څه وی؟ دغه قصه پخوا له دی نه هم په څو ځایونو کښی بالتفصیل تیره شوی ده دلته د هغی له تذکری څخه دغه تنبیه مقصود دی چه د فانی دنیا په دول او سینګار مغروریدل او د آخرت څخه غافل کیدل، فقط د شیطان په تحریک او تسویل سره کیږی ځکه چه شیطان غواړی چه مونږ بیا خپل هغه اصلی او آبائی وطن (جنت) ته بیرته لاړ نه شو. د ده د نظر مطمح دا ده چه په دوستی او خپلوی کښی له مونږ څخه هغه خپل پخوانی کسات او انتقام واخلی. انسان ته لازم دی چه د داسی چالاک او هوښیار دښمن څخه خپل ځان وساتی. هغه کسان چه پر دنیوی متاع مغروریږی او ضعیفان خوار او حقیر ګنی او خپل ځان دیر وړ (لائق)، غوړ، او لوړ (وچت) بولی ګواکی هغوی په تکبر او تفاخر د لعین شیطان پر لار درومی.

**تنبیه :** ابن کثیر رحمة الله علیه ځینی روایات نقل کړی دی چه په هغو کښی د ابلیس اصل د ملائکو له نوعی څخه ښوولی شوی دی او لیکلی ئی دی چه د دغو روایاتو غالبه حصه له اسرائیلیاتو څخه ده چه ښائی وروسته له ډیره فکره او نظره په احتیاط سره ومنلی شی او له هغو څخه اکثر شیان خو یقیناً دروغ دی ځکه چه لوی قرآن بالتصریح د هغه تکذیب کوی. وروسته له هغه ابن کثیر رحمة الله علیه په ډیرو متینو الفاظو سره د اسرائیلیاتو په نسبت څه کلام کړی

دی چه د لوستلو او په یاد لرولو قابل دی چه دلته ئی مونږ د تطویل له خوفه نشو داخلولی.

مَآ أَشْهَدتُّهُمْ خَلْقَ السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضِ وَلَا خَلْقَ أَنفُسِهِمْ وَمَا كُنتُ مُتَّخِذَ الْمُضِلِّينَ عَضُدًا ﴿٥١﴾

نه دی حاضر کړی ما دغه (شیاطین) پیدا کولو د آسمانونو او د ځمکی ته او نه پیدایښت د ځانونو د دوی ته او نه یم زه نیونکی د گمراه کوونکو مټ بازو (مددگار یعنی له شیاطینو مرسته (مدد) نه غواړم په هیڅ شی کښی نو ولی تاسی ئی امر، حکم منئ؟)

**تفسیر** : یعنی د ځمکی او آسمان د پیدا کولو په وقت کښی مونږ دغه شیاطین نه ؤ رابللی چه راځئ ځما کار وگورئ چه ښه دی که څه نقص پکښی شته؟. الغرض له دوی ځنی د تکوین او ایجاد په عالم کښی هیڅ مشوره نه ده اخیستی شوی او نه مدد تری طلب کړی شوی دی بلکه د ځمکی او آسمان د پیدائښت په وقت کښی خو له سره پخپله دوی هم موجود نه ؤ او په خپله د دوی د پیدائښت په وقت کښی هم تری پوښتنه نه ده شوی چه ته څرنگه پیدا کړی شی؟ یا ستا نور محسنان په څه شان سره پیدا کړم؟ لږ خو راشئ! او له ما سره مرسته (مدد) وکړئ! او په فرض محال که می مدد غوښتی وی او که می ځان ته مټ او بازو جوړاوه نو آیا هغه به له هم دغو بدبختانو او اشقیاؤ څخه وی؟ بلکه نه به وی چه زه ښه علم لرم چه ځما بندگان له لیاری څخه بې‌لیاری کوی بیا نه دی معلوم چه انسانان ولی دوی ته د خدائی درجه ورکړی ده او خپل رب ئی پریښی دوی ئی ولی خپل رفیق ملگری او مددگار درولی دی؟ «سبحانه وتعالیٰ عما یقول الظالمون علواً کبیراً»

وَيَوْمَ يَقُولُ نَادُوا شُرَكَآءِيَ الَّذِينَ زَعَمْتُمْ فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ يَسْتَجِيبُوا لَهُمْ وَجَعَلْنَا بَيْنَهُم مَّوْبِقًا ﴿٥٢﴾

او (یاد کړه) هغه ورځ چه ویه وائی (الله مشرکانو ته) چه ناری کړئ شریکانو ځما ته هغه چه گمان کاوه تاسی (د خدائی پر هغو) پس ویه بولی دوی هغوی نو جواب به ورنه کړی دوی ته (او نه مرسته (مدد) ورسره کوی) او ویه گرځوو مونږ په منځ د دوی کښی ځای د هلاک (دوزخ).

**تفسیر :** یعنی هغه چه تاسی له ما سره شریکان درولی ؤ هغوی ته ناری کړئ څو د دی مصیبت په وقت کښی له تاسی سره مدد او کومک وکړی. خو په دغه وقت کښی د رفاقت او دوستی ګردی (تولی) کلائی ویلی کیږی (او د دوستی تول اسباب غوځیږی) او د خپلوی دغه چلو صاف به له اوبو څخه وځی څرنګه چه دوی به یو بل ته له سره نژدی کیدی هم نشی نو یو له بل سره به مدد او مرسته (امداد) په څه ډول (طریقه) سره رسولی شی. د دغو عابدینو او معبودینو په منځ کښی به د اور یو عظیم او وسیع خندق حائل وی.

وَرَاَ الۡمُجۡرِمُوۡنَ النَّارَ فَظَنُّوۡۤا اَنَّهُمۡ مُّوَاقِعُوۡهَا وَلَمۡ يَجِدُوۡا عَنۡهَا مَصۡرِفًا ﴿۵۳﴾

او وبه ګوری (مجرمان مشرکان) اور پس یقین به ئی راشی په دی چه په تحقیق دوی لویدونکی دی په دغه (اور د دوزخ) کښی او نه به مومی دوی له دغه (اوره) ځای د په څنګ کیدلو.

**تفسیر :** یعنی په اوله ابتداء کښی به لږ څه د مغفرت او بښنی امید لری لیکن هم دغه چه په جهنم باندی د دوی سترګی ولګیږی او جهنم دوی خپل ځان ته ورکش کړی نو پوره یقین به ئی راشی چه اوس هرومرو (خامخا) زه په دغه اور کښی لویږم او د تیښتی هیڅ یوه لیاره ماته نه ده پاتی او نه خپله لیار له دغه اور څخه بل لوری ته پیدا کولی شم.

وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَا فِىۡ هٰذَا الۡقُرۡاٰنِ لِلنَّاسِ مِنۡ كُلِّ مَثَلٍ‌ ؕ وَكَانَ الۡاِنۡسَانُ اَكۡثَرَ شَىۡءٍ جَدَلًا ﴿۵۴﴾

او خامخا په تحقیق مکرر بیان کړی دی مونږ په دی قرآن کښی خلقو ته (مثال له جنسه) د هر قسم مثل (له جهته د عبرت)، او دی انسان زیات له هر شی څخه له جهته د جدل (جګړی او خصومت په باطله کښی.)

**تفسیر :** یعنی لوی قرآن په څه څه مختلفو عنواناتو او قسم قسم دلائلو او امثله ؤ سره ښتیا ښتیا خبری پوهوی مګر انسان داسی جګړه کوونکی دی چه په صافه او سمه خبره کښی هم

کړی وړی خبری پیدا کوی او د بی‌موردو حجتونو او دلائلو د راوړو څخه لاس نه اخلی او تل جنګ او جګړه کوی. کله چه په خبرو او جګړو سره څه ونشی کړی نو پر مهمل او بیکاره چتی (فضول) فرمائشونو باندی لاس پوری کوی چه هغه شی او دغه شی راوښیه نو زه به ئی منم.

وَمَا مَنَعَ النَّاسَ أَنْ يُؤْمِنُوا إِذْ جَاءَهُمُ الْهُدَىٰ وَيَسْتَغْفِرُوا رَبَّهُمْ إِلَّا أَنْ تَأْتِيَهُمْ سُنَّةُ الْأَوَّلِينَ أَوْ يَأْتِيَهُمُ الْعَذَابُ قُبُلًا ﴿٥٥﴾

او نه دی منع کړی دا خلق له دی نه چه ایمان راوړی کله چه راغی دوی ته هدایت (رسول او قرآن) او (له دی نه چه) ښښنه وغواړی له رب خپل مګر (دی خبری) چه راشی دوی ته هغه طریقه د ړومبنیو (خلقو چه هلاک د دوی ؤ) یا راشی دوی ته عذاب مخامخ.

**تفسیر :** یعنی د دغه ضد او عناد له لیدلو څخه ویلی شی چه د داسی عظیم الشان قرآن د هدایت د رارسیدلو څخه بعد دوی خپل د ایمان نه راوړلو او توبه نه ایستلو دپاره هیڅ کوم معقول دلیل او عذر نه لری. نو اوس د حق په منلو کښی ولی ځند (ایسارتیا) کوی؟ او دیر کوی نو اوس د څه شی په انتظار کښی دی؟ پرته (علاوه) له دی نه چه د پخوانیو اقوامو په شان الله تعالیٰ دوی په کلی ډول (طریقه) سره سپیره او تباه کړی. او که ئی تباه نه کړی نو اقلا د الله تعالیٰ د عذاب مختلف صورتونه د دوی د سترګو په مخ کښی ودراوه شی هکذا یفهم من تفسیر ابن کثیر رحمة الله علیه وغیره. حضرت شاه صاحب لیکی: یعنی د بل کوم څیز انتظار دوی ته نه دی پاتی. مګر هم دغه چه د پخوانیو اقوامو په شان هلاک او فناء شی. یا د قیامت عذاب پخپلو سترګو سره وګوری.

وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ ۚ

او نه لیږو مونږ رسولان مګر زیری ورکونکی (مؤمنانو ته په نعیم سره) او ویرونکی (کفارو ته په جحیم سره)،

**تفسیر :** یعنی دوی د دی خبری اختیار له سره نه لری چه هر کله ته وغواړی او دوی ووایی عذاب وربراندی نازل شی او د هغوی هر راز (قسم) غوښتنی انجام او اجراء ومومی.

وَيُجَادِلُ الَّذِينَ كَفَرُوا بِالْبَاطِلِ لِيُدْحِضُوا بِهِ الْحَقَّ وَاتَّخَذُوا آيَاتِي وَمَا أُنْذِرُوا هُزُوًا ﴿٥٦﴾

او جګړې کوي هغه کسان چه کافران شوي دي په باطله سره دپاره د دې چه ورک او لرې کړي په دې سره حق رښتيا خبره او نيولي دي آيتونه (د قرآن) ځما او هغه شيان چه (پرې) ويرولي شوي وو دوی مسخره.

**تفسير :** يعني په دروغو جګړه ئې نښلولې او کاره بحثونه ئې غوښتل چه د حق غږ شکته کړي او د دروغو په زور د رښتيا قدم وښويوي خو داسې به له سره نه کيږي.
(او نيولي دي آيتونه د قرآن ځما او هغه شيان چه دوی پرې ويرولي شوي وو مسخره) يعني د الله تعالیٰ له کلام سره مسخرې کوي او ملنډې پرې وهي کله چه دوی د الله تعالیٰ له کلامه ويراوه شي نو پرې خاندي او مسخرې کوي.

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ بِآيَاتِ رَبِّهِ فَأَعْرَضَ عَنْهَا وَنَسِيَ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ ۚ

او څوک دي ډير ظالم له هغه چا چه پند ورکړی شوی وي ده ته په آياتونو د رب د ده (قرآن) پس وګرځوي مخ له هغه (فکر پکښې ونه کړي او پند ترې وانخلي) او هير کړي هغه عملونه چه وړاندې ليږلي لاسونو د ده (چه کفر او معاصي دي)،

**تفسير :** يعني کله له هيرې هم داسې يو خيال ورپيدا نشو چه د تکذيب الحق او استهزاء او تمسخر هغه ذخيره چه دوی وړاندې ليږې د هغه سزا به څه وي؟.

إِنَّا جَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَنْ يَفْقَهُوهُ وَفِي آذَانِهِمْ وَقْرًا ۖ وَإِنْ تَدْعُهُمْ إِلَى الْهُدَىٰ فَلَنْ يَهْتَدُوا إِذًا أَبَدًا ﴿٥٧﴾

بيشکه مونږ ګرځولي مو دي پر زړونو د دوی پردې دپاره د دې چه پوه نشي پر دغه (قرآن) او (ګرځولي مو دي) په غوږونو د دوی کونوالي، او که ته راوبولې دوی په طرف د سمې لياري پس له سره هدايت نه مومي دوی په دغه وقت کښې هيچيرې.

**تفسیر :** یعنی د دوی د جدال بالباطل او استهزاء بالحق له سببه مونږ د دوی پر زړونو پرده غوړځولی ده او غوږونه مو ورته داسی تپلی او بند کړی دی چه اوس له سره حق پری نشی اوریدلی او که د انجام او عاقبت په طرف فکر وکړی نو څرنګه به کولی شی د داسی بدبختانو څخه له سره دغه هیله (امید) او توقع نشی کیدی چه پر لیاره راشی.

وَرَبُّكَ الْغَفُورُ ذُو الرَّحْمَةِ ۖ لَوْ يُؤَاخِذُهُم بِمَا كَسَبُوا لَعَجَّلَ لَهُمُ الْعَذَابَ ۚ

او رب ستا ډیر ښونکی څیښتن (خاوند) د رحمت دی، که نیولی وی (الله دغه کفار په دنیا کښی) په سبب د هغو ګناهونو چه کوی ئی دوی نو خامخا ژر به ئی رالیږلی ؤ دوی ته عذاب (په دنیا کښی هم)،

**تفسیر :** یعنی د دوی اعمال خو داسی دی چه د عذاب په لیږلو کښی ښائی یو ساعت هم تاخیر او ډیل واقع نشی. مګر د الله تعالیٰ حلم او کرم د دوی د فوراً تباه کولو څخه مانع دی او پخپل عمومی رحمت سره تر یو خاص حد پوری تری تیریږی او ډیر سخت مجرم ته هم فرصت او موقع ورکوی څو هر وقت چه وغواړی له خپلو بدو اعمالو څخه توبه وکاږی نو د هغه تیر ګناهونه ښښلی کیږی او د ایمان راوړلو په سبب د عظیمه ؤ نعمتونو مستحق ګرځی.

بَل لَّهُم مَّوْعِدٌ لَّن يَجِدُوا مِن دُونِهِ مَوْئِلًا ﴿٥٨﴾

(داسی نه دی چه په دغه مهلت او تاخیر سره له عذابه خلاص شی) بلکه شته دوی ته ځای (یا وقت) د وعدی چه له سره به ونه مومی دوی غیر له الله پناهی (ځای د تیښتی).

**تفسیر :** یعنی دغه د عذاب تأخیر تر یو معین وقت پوری دی. دغه ممکن نه دی چه د کوم مجرم د سزا ورکولو د وعدی له راتلو څخه پخوا هغه یو طرف یا بل طرف ته ځان وخوځوی. کله چه وقت راشی نو ګرد (تول) سره یو ځای ترلی راځی او هیڅ توان او طاقت نه لری چه چیری ځان پټ کړی.

وَتِلْكَ الْقُرَىٰ أَهْلَكْنَاهُمْ لَمَّا ظَلَمُوا وَجَعَلْنَا لِمَهْلِكِهِم مَّوْعِدًا ﴿٥٩﴾

او دغه (اهل د) کلیو (چه دی) هلاک کړل مونږ دوی هر کله چه ظلم ئی

اختیار کړ. او مقرره کړې وه مونږ دپاره د هلاک د دوی یوه نیټه (معلومه).

**تفسیر :** یعنی د عاد او ثمود خرابو او ویجاړو کلیو ته وګورئ چه د هغوی واقعات مشهور او معروف دی. کله چه دوی ظلم او تیری وکړ نو څرنګه پخپل معین وقت کښې سره تباه او برباد کړل شوی؟ هم داسی تاسی ته هم ویره په کار ده چه په موعوده وقت کښې تاسی ته د الله تعالیٰ له عذابه هیچیری د پناه ځای او نجات په لاس نه درځی.

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِفَتَاهُ لَا أَبْرَحُ حَتَّىٰ أَبْلُغَ مَجْمَعَ الْبَحْرَيْنِ أَوْ أَمْضِيَ حُقُبًا ﴿٦٠﴾

او (یاد کړه) هغه وقت چه وویل موسیٰ ځلمی (خادم) خپل ته چه تل به ځمه تر هغه پوری چه ورسیږم ځای د یو ځای کیدلو د دواړو سیندونو ته یا به ګرځم دیری زمانی.

**تفسیر :** پاس ذکر شوی ؤ چه مغرورو کافرانو مفلسان، مخلصان مسلمانان، حقیر ګڼل او رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته به ئې ویل چه دوی مه پریږدئ چه له تاسی سره کښینی. څو مونږ له تاسی سره کښینو. د هغه په نسبت ئې د دوو کسانو قصه اوروله. بیا ئې د دنیا مثال او د ابلیس خرابیدل د کبر او غرور لامله (له وجې) بیان کړل، اوس د موسیٰ علیه السلام او د خضر علیه السلام د قصې ذکر کوی چه د الله تعالیٰ خاص بندګان اګر که له نورو ځنې افضل او بهتر هم وی خو بیا هم دوی خپل ځان افضل او بهتر نه ګڼی او کله چه په سهو او تیروتلو سره ځان غوره وګڼی نو د الله تعالیٰ له جانبه دوی ته تنبیه او تادیب ورکاوه کیږی.

په حدیث شریف کښې راغلی دی چه حضرت موسیٰ علیه السلام خپل قوم ته یوه ورځ ډیر مؤثر او خورا (ډیر) ښه پند او نصیحتونه فرمایل، یوه سړی له دوی څخه پوښتنه وکړه چه:

«یا موسیٰ علیه السلام! آیا د ځمکی په مخ کښې به له تاسی څخه بل کوم لوی عالم موندہ شی؟»

موسیٰ علیه السلام وفرمایل «نه» دغه جواب اګر که په واقع کښې صحیح ؤ ځکه چه موسیٰ علیه السلام د اولوالعزمو انبیاؤ څخه ؤ او ښکاره ده چه په دغه زمانه کښې د شرعیه ؤ علومو په اسرارو کښې د ده د علم څخه د بل هیچا علم زیات نه ؤ. لیکن دغه ادعا د پاک الله په دربار کښې غیر مرغوبه (ناپسنده) واقع شوه. اګر که مراد ئې صحیح ؤ بیا هم د جواب د عنوان له عمومه داسی ظاهریده چه د ځمکی په مخ کښې من کل الوجوه دی خپل ځان اعلم الناس ګڼی. د الله تعالیٰ مرضی دا وه چه دغه جواب به ئې د ده پر محیط علم محول کاوه. مثلاً داسی به ئې ویل چه د الله تعالیٰ مقرب او مقبول بندګان ډیر دی له ګردو (ټولو) څخه فقط همغه علیم او خبیر خبر دی او بس نو دلته وحی پری نازله شوه چه په هغه ځای کښې چه دوه سیندونه سره یو

ځای ګډیږی د هغه سره نژدی ځمونږ داسی یو بنده شته چه له تانه زیات عالم دی (دغه دوه سیندونه کوم دی؟) ځینی وائی چه د (پارس) او (روم) سیندونه مراد دی. لیکن دغه دواړه سیندونه سره نه یو ځای کیږی. ښائی چه له ګډیدلو ځخه قرب مکانی مراد دی. یعنی چیری چه د دغو دواړو فاصله ډیره لږه سره پاتی کیږی. د ځینو په نزد هغه ځخه د (افریقا) دوه سیندونه مراد دی. د ځینو علماؤ په نزد مجمع البحرین هغه ځای دی چه هلته دجله او فرات د پارس په «خلیج» کښی توئیږی. والله اعلم.

په هر حال موسیٰ علیه السلام غوښتنه وکړه چه ماته د هغه پوره پته نښه او سراغ وښوولی شی څو زه هلته لاړ شم او څه علمی استفاده وکړم.

حکم صادر شو چه ته د ده په لټولو پسی ووځه! او یو وریت کړی مهی (کب) له ځانه سره واخله! هر چیری چه هغه وریت کړی کب درځخه ورک شو نو وپوهیږه چه ځمونږ هغه بنده همغلته موجود دی. ګواکی له مجمع البحرین نه چه یوه وسیعه قطعه تری مرادیده شی هم دغه ځای مراد دی چه د هغه د تعیین دپاره هم دغه علامه مقرر فرمایلی شوی ده.

موسیٰ علیه السلام سم له هم دغه هدایته په سفر شروع وکړه او خپل ملګری ځلمی خادم ته ئی وویل چه «پر دغه (کب) پاملرنه وکړه! زه به تل مزل وهم څو د مقصود منزل ته ورسیږم. فرض ئی کړه که کلونه او قرن هم تیر شی زه بی د دغه مقصد له حصوله له مسافرته لاس نه آخلم.»

**تنبیه :** له ځلمی ځخه مراد حضرت یوشع علیه السلام دی چه په ابتداء کښی د موسیٰ علیه السلام خاص خادم ؤ او بیا د ده په حضور کښی (نبی) او وروسته د موسیٰ علیه السلام خلیفه شو.

---

فَلَمَّا بَلَغَا مَجْمَعَ بَيْنِهِمَا نَسِيَا حُوتَهُمَا فَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا ﴿٦١﴾

---

بیا کله چه ورسیدل ځای د یو ځای کیدو په مابین د دواړو سیندونو کښی هیر کړ دواړو مهی خپل نو ونیوله (دی مهی) لیاره خپله په بحر سیند کښی (په شان د ) سرنګ (کوځه).

---

**تفسیر :** هلته ورسید او د لوئ تیږی (ګټی) په څنګ چه تری لاندی د حیات چینه بهیده حضرت موسیٰ علیه السلام ویده شو. حضرت یوشع علیه السلام ولیده چه هغه وریت کړی مهی باذن الله ژوندی شو او په یو عجیبه طریقه سره په سیند کښی چه د سرنګ په شان به ئی لیاره ځان ته جوړوله روان شو او هلته په اوبو کښی د الله تعالیٰ په قدرت د یوه تونل (سوپ یا طاق) په شان خلاص دالان ښکاره شو. یوشع د دی وضعیت د لیدلو څخه متحیر او متعجب شو. او غوښت ئی څه مهال (وخت) چه موسیٰ علیه السلام ویښ شی دغه قصه ورته ووائی او دغه پیښه

ورته وښيي. کله چه موسیٰ علیه السلام ويښ شو نو سم د لاسه ودريد او په تګ ئی پيل (شروع) وکړ خدای زده چه موسیٰ علیه السلام د ويښيدلو او رهی (روان) کيدلو په وقت کښی يوشع علیه السلام په کومو خيالاتو کښی ډوب تللی ؤ چه د هغه مهی د ژوندی کيدلو د پيښی قصه ئی هيره شوه. په رواياتو کښی راغلی دی کله چه د موسیٰ علیه السلام يوشع علیه السلام ته د هغه مهی د ساتلو په نسبت تاکيدات کول يوشع علیه السلام له خولی دا خبره ووته چه د يوه مهی ساتنه دومره لويه خبره نه ده چه ته پری دومره تاکيدونه کوی. لهٰذا ده ته هم تنبيه ورکړه شوه چه انسان ته په کار دی چه په ډير ووړوکی کار کښی هم پر خپل ځان بی د الله تعالیٰ له فضله تکيه او اعتماد ونه کړی!

فَلَمَّا جَاوَزَا قَالَ لِفَتٰىهُ اٰتِنَا غَدَآءَنَا لَقَدْ لَقِيْنَا مِنْ سَفَرِنَا هٰذَا نَصَبًا ﴿۶۲﴾

نو کله چه تير شول (له مجمع البحرين څخه) وويل (موسیٰ) خپل ځلمی ته راوړه مونږ ته صباح ناری (خوراک) زمونږ په تحقيق پيښه شوه مونږ ته له دغه سفره څمونږه ډيره سختی.

**تفسير** : موسیٰ علیه السلام پخوا له دی نه په دغه سفر کښی نه ؤ ستړی شوی، څه مهال (وخت) چه د مطلب مهی د ده له لاسه خوشی شو نو هلته ورته پخپل تګ کښی ستومانی ورمحسوسه شوه.

قَالَ اَرَءَيْتَ اِذْ اَوَيْنَآ اِلَى الصَّخْرَةِ فَاِنِّىْ نَسِيْتُ الْحُوْتَ ۫ وَ
مَآ اَنْسٰنِيْهُ اِلَّا الشَّيْطٰنُ اَنْ اَذْكُرَهٗ ۚ

وويل (ځلمی) آيا وليد (خبر شوی) کله چه ځای ونيوه مونږ هغی لويی تيږی (ګټی) ته (چه د چينی په څنګ کښی وه) نو بيشکه ما هير کړ (بيان د حال د) مهی او هيره نه کړه له مانه دغه (پيښه) مګر شيطان چه ياد کړم هغه (تاته)

**تفسير** : يعنی د مطلب خبره هيرول او په عين موقع کښی د هغه يادونی څخه ذهول د شيطان د وسوسی اچولو لامله (وجی) واقع شوی دی.

وَاتَّخَذَ سَبِيْلَهٗ فِى الْبَحْرِ ۖ عَجَبًا ﴿۶۳﴾ قَالَ ذٰلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِ ۖ

فَارْتَدَّا عَلٰۤى اٰثَارِهِمَا قَصَصًاۙ ﴿۶۴﴾

او ونیوله (دغه مهی) لیاره خپله په بحر (سیند) کښې ډیره عجیبه. وویل (موسیٰ) هم دغه (ورکول او هیرول د مهی) هغه څه دی چه وو مونږه چه طلب کاوه مو پس بیرته راوګرځیدل دواړه پر همغو قدمونو خپلو قدم په قدم.

**تفسیر :** غالباً هلته به له پخوا څخه کومه لاره نه وی وهلی شوی نو ځکه دوی د خپلو قدمونو پر نښو بیرته ستانه (واپس) شول.

فَوَجَدَا عَبْدًا مِّنْ عِبَادِنَاۤ اٰتَيْنٰهُ رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِنَا وَعَلَّمْنٰهُ مِنْ لَّدُنَّا عِلْمًا ﴿۶۵﴾

پس وموندل دوی دواړو یو بنده (خضر) له بندګانو ځمونږ چه ورکړی وو مونږ ده ته رحمت له نزده خپله او ښوولی مو ؤ ده ته له جانبه خپله یو لوی علم.

**تفسیر :** بنده حضرت خضر علیه السلام ؤ چه الله تعالیٰ دی په خپل خصوصی رحمت سره پاللی ؤ. او د کونیه ؤ اسرارو له علمه ئی وافره حصه ورعطاء فرمایلی وه. په دی کښې اختلاف دی چه حضرت خضر علیه السلام رسول ومنلی شی؟ یا نبی؟ یا د ولی درجه ورته ومنله شی؟ د داسی مباحثو فیصلی په دی ځای کښې نشی کیدی. خو بیا د دی احقر رجحان په دغه جانب دی چه دی نبی تسلیم کړی شی. او لکه چه د ځینو محققینو خیال دا دی هغه انبیاء چه سره له نوی شریعت نه دی راغلی هغوی ته هم دومره تصرف او اختیار عطاء کیږی چه د ځینو خصوصیه ؤ معاملو پر بناء د مستقل شریعت د کوم عام تخصیص یا د مطلق تقیید یا له عامه ضابطی د ځینو جزئیاتو استثناء وکړی شی. هم داسی خضر علیه السلام ته هم جزئی تصرفات حاصل ؤ. والله اعلم په هر حال موسیٰ علیه السلام له خضر علیه السلام سره ملاقی شو. او وروسته له سلام او متعارف کلام څخه حضرت خضر علیه السلام د موسیٰ علیه السلام د دغه سفر د سبب پوښتنه وکړه موسیٰ علیه السلام د خپل د دغه راتګ سبب وروښود خضر علیه السلام وویل « ای موسیٰ علیه السلام! بیشکه چه الله تعالیٰ ستا تربیت فرمائلی دی خو خبره دا ده چه د الله تعالیٰ له طرفه (د کونیه ؤ جزئیاتو) یو علم ماته رابښلی شوی دی چه په دغه مقدار تاته نه دی درکړی شوی. او د تشریعو اسرارو علم چه تاته درکړی شوی دی په هغه مقدار ماته نه دی راکړی شوی وروسته له دی نه یوه چرچنه ئی ولیده چه له دغه سیند څخه ئی اوبه څښلی نو خضر علیه السلام موسیٰ علیه السلام ته وویل چه « ځما او ستا بلکه د ګردو (ټولو) مخلوقاتو د علم نسبت د الله تعالیٰ د علم په مقابل کښې هم داسی دی لکه چه د دغه لوی لوی سیندونو د اوبو په مقابل کښې ئی هغه څاڅکی اوبه لری چه دغه چرچنی ئی پخپله دغه وړوکی مښوکی سره څښې دغه هم

محض د تفهیم دپاره ۇ که نه د متناهي او د غیر متناهي نسبت د لوی سیند او د څاڅکي سره بیخي نسبت نه لري او نه په دغسې شیانو سره هغه څه مشابهت لري».

قَالَ لَهُۥ مُوسَىٰ هَلْ أَتَّبِعُكَ عَلَىٰٓ أَن تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا ﴿٦٦﴾

وويل دغه (خضر) ته موسیٰ آیا زه تابع شمه ستا په دې شرط سره چه وښیئ ته ماته له هغه علمه چه ښوولي شوی ده تاته ښه لیاره (د رشد او صواب).

تفسير : یعني که اجازه دې وي نو څو ورځې به له تاسي سره اوسیږم او د دغه مخصوصه علم څخه به لږ څه شي در څخه زده کړم.

قَالَ إِنَّكَ لَن تَسْتَطِيعَ مَعِىَ صَبْرًا ﴿٦٧﴾ وَكَيْفَ تَصْبِرُ عَلَىٰ مَا لَمْ تُحِطْ بِهِۦ خُبْرًا ﴿٦٨﴾

نو وويل (خضر موسیٰ ته) چه بیشکه ته له سره به ونه کړی شي طاقت له ما سره د صبر او څرنګه به صبر وکړې ته په هغه کار چه نه وي کړی احاطه تا په هغه کار له جهته د علم (او پوهې).

تفسير : حضرت خضر علیه السلام د موسیٰ علیه السلام د مزاج او د نورو خصوصیاتو د تخمین او اندازه کولو څخه وروسته پر دغه خبره پوهیدلی ۇ چه دی له ما سره نشي اوسیدی. ځکه چه خضر علیه السلام مامور ۇ چه د کونیه ۇ واقعاتو د جزئی علم له حاصلولو څخه وروسته موافق له هغه سره عمل وکړي او موسیٰ علیه السلام د کومو علومو چه حامل ۇ د هغوی تعلق له تشریعیه ۇقوانینو او کلیاتو سره ۇ. بناء علیه په هغو جزئیاتو کښې چه د عوارضو او خاصه ۇ خصوصیاتو له سببه پر ظاهري عمومي ضابطه عمل نه کیده نو حضرت موسیٰ علیه السلام د خپلو معلوماتو پر بناء هرومرو (خامخا) اعتراض او تنقید کوی. او د صبر او سکوت او انتظار پر مسلک به تر دیر مدت پوری نشي قائم پاتي کیدی او آخري نتیجه به داسي واقع کیږي چه مونږ به سره بیلیږو.

قَالَ سَتَجِدُنِىٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ صَابِرًا وَلَآ أَعْصِى لَكَ أَمْرًا ﴿٦٩﴾

وويل (موسیٰ خضر ته) چه ژر به ومومي ته ما که اراده وفرمائی الله صبر کوونکی او نه به نافرمانی کوم د تا په هیڅ یو امر (حکم) کښې.

**تفسیر :** د دغه وعده کولو په وقت کښې د دغې خبرې تصور هم له موسیٰ علیه السلام نه امید نشو کیدی چه د داسې یو مقرب او مقبول بنده څخه به داسې یو حرکت لیده کیږی چه علانیه نه یوائځې د موسوی شریعت بلکه د عمومی شرائعو او اخلاقو هم مخالف او مغائر وی. غنیمت دی چه ده انشاء الله ورسره فرمایلی وه که نه له قطعی وعدې څخه تخلف د یو اولوالعزم نبی له شانه سره نه وی لائق.

قَالَ فَإِنِ اتَّبَعْتَنِي فَلَا تَسْأَلْنِي عَنْ شَيْءٍ حَتَّىٰ أُحْدِثَ لَكَ مِنْهُ ذِكْرًا ﴿٧٠﴾

نو وویل (خضر موسیٰ ته) پس که ته متابعت کوی ځما پس پوښتنه مه کوه له مانه د هیڅ څیز تر هغه پورې چه زه شروع وکړم تاته د هغه ذکر (او بیان).

**تفسیر :** یعنی که کومه خبره په ظاهری ډول (طریقه) سره ناحقه په نظر درشی نو علی‌الفور پر ما باندې تنقید ئی مه کوه! څو زه پخپله هغه خبره تاته شروع کړم.

فَانْطَلَقَا حَتَّىٰ إِذَا رَكِبَا فِي السَّفِينَةِ خَرَقَهَا
قَالَ أَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا إِمْرًا ﴿٧١﴾

پس دواړه روان شول تر هغه پورې چه سواره شول په بیړی کښې (او بلی غاړی ته نژدی شول) نو سوری کړه (خضر) هغه (بیړی)، وویل (موسیٰ) آیا سوری دی (کړه دا بیړی) لپاره د دې چه غرق کړی اهل د دې خامخا په تحقیق دی وکړ یو کار دروند.

**تفسیر :** کله چه دوی پر هغه بیړی سوریدل بیړی وانانو خضر علیه السلام وپیژند او تری ئی اجرت او باړه ونه غوښت او ویړیا ئی له سینده پورې ویست. نو د هغه احسان په بدل کښې د دغه نقصان د لیدلو څخه موسیٰ علیه السلام ته ډیر زیات تعجب پیدا شو. لیکن بیړی په پوره ډول (طریقه) سره ساحل ته نژدی شوی وه. چه دا ئی سوری کړه نو ځکه خلقو له ډوبیدلو څخه نجات ومونډ او تخریق ئی هم په دغه صورت سره ؤ چه یوه دړه (تخته) ئی ویسته یعنی عیبجنه ئی کړه.

قَالَ اَلَمْ اَقُلْ اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ مَعِيَ صَبْرًا ﴿٧٢﴾ قَالَ لَا تُؤَاخِذْنِيْ بِمَا نَسِيْتُ وَلَا تُرْهِقْنِيْ مِنْ اَمْرِيْ عُسْرًا ﴿٧٣﴾

وویل (خضر موسیٰ ته) آیا ما نه ؤ ویلی بیشکه ته له سره به ونه کړی شی طاقت له ما سره د صبر. وویل (موسیٰ خضر ته) مه نیسه ما په هغه کار چه هیر کړی می ؤ (هغه چه وصیت د تا دی) او مه غورځوه ماته په دی کار ځما (چه متابعت یا نسیان دی) اشکال.

تفسیر : یعنی که په هیری او تیروتو هم ما ګرم او ملامت کړی نو ځما ملګرتوب به له تاسی سره مشکل شی. دغه ړومبنی پوښتنه له موسیٰ علیه السلام څخه سهواً شوی ده. او دوهمه ئی د اقرار دپاره او دریمه ئی د ترخیص دپاره وه. علیٰ ای حال له بیری نه ښکته شول.

فَانْطَلَقَا حَتّٰۤى اِذَا لَقِيَا غُلٰمًا فَقَتَلَهٗ

پس بیا روان شول تر هغه پوری چه پیښ شول پر یو هلک پس مړ کړ (خضر) هغه (هلک):

تفسیر : یوه کلی ته نژدی څو هلکان پخپلو منځونو کښی سره لوبی کولی د دوی له منځه یو هلک ئی چه ډیر ښکلی او هښیار او ډیر ښکاریده، ونیوه او مړ ئی کړ، او له هغه ځایه په تلوار سره روان شو په ځینو روایاتو کښی د ده اسم «جیسور» راغلی دی دغه هلک بالغ ؤ که نه ؤ. د ځینو قول دی چه بالغ ؤ او د غلام لفظ د هغه په نابالغیدلو دلالت کوی. لکه چه تول مفسرین هم هغه نابالغ بیانوی. والله اعلم.

قَالَ اَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةً

وویل (موسیٰ خضر ته) آیا مړ دی کړ یو نفس پاک بی ګناه.

تفسیر : یعنی څو هلک بالغ نشی پر ده باندی هیڅ ګناه نه اوړی. دغه لفظ ظاهراً د هغه په عدم بلوغ اشاره او تائید کوی اګر که نورو ته د تأویل ځای پکښی شته.

بِغَيْرِ نَفْسٍ لَقَدْ جِئْتَ شَيْـًٔا نُّكْرًا ﴿٧٤﴾

غیر له عوضه د بل نفس، خامخا په تحقیق را دی وړ (لائق) (ودی کړ) یو کار نامعقوله (مخالف د ظاهر د شریعت).

**تفسیر :** یعنی اول خو نابالغ په قصاص کښی هم نه وژلی کیدی شی. علاوه پر دی دلته د قصاص کومه خبره هم پمنځ کښی نه وه نو بیا له دی نه زیاته نامعقوله به څه وی؟ (چه بی سببه یو بی گناه نفس ووژلی شی).

# د قرآن کریم د وقفو رموز (نښې)

- د هرې ژبې ویونکي چه کله خبرې کوي نو چیرته دریږي او چیرته نه دریږي، کله ډیر اوکله لږ ایسا ریږي او په دې ودریدو او نه دریدو کښې د خبرې پوره بیان او مفهوم کښې ډیر لوی دخل دی .

د قرآن کریم معجز کلام او عبارت هم د وینا په ډول واقع دی. له دغه وجې نه أهل علمو د دریدو او نه درید و نښې (علائم) مقرر کړي دي چه هغې ته د قرآن مجید د وقفو رموز وائي .

ضروري خبره ده چه د دې عظیم کتاب لوستونکي د دې رموزو پوره خیال وساتي او هغه رموز دا دي.

○ - چیرته چه خبره پوره شي هلته کښې وړه غوندې دائره وي ، دا په حقیقت کښې غونډه (ت) ده چه د (ة) په هیئت کښې لیکلې شي او دا د وقف تام علامه ده په دې باندې درېدل پکار دي ، اوس ة خونه شي لیکلې مګر وړه غوندې حلقه اچولې شي دې ته آیت وائي .

مـ - دا د وقف لازم علامه ده په دې باندې هرو مرو (خامخا) دریدل پکار دي او که چیري څوک ونه دریدنو احتمال

لری چه دخبری مطلب به بل خه شی ددی په پښتو ژبه کښی
داسی مثال پوهیدل پکارده چه چاته و ویلی شی ،
(پاسه ـ مه کینه) چه پکښی د پاسید و امراوله کیناستو
نهی ده نو په ـ پاسه ـ باندی دریدل لازم دی اوکه چیری
متکلم ونه دریدنو مخاطب به داسی وګڼړی چه ( پاسه مه ـ
کینه) چه په هغه کښی به د ودرید و نه نهی اودکیناستود
امراحتمال کیګی او یقیناً دا به د قائل د مطلب خلاف وی.

ط ـ دادوقف مطلق علامه ده په دی باندی دریدل پکاردی دا
علامه هلته وی چه کوم ځای مطلب نه پوره کیګی او ویونکی
مزیده همځه ویناکول غواړی .

ج ـ دادجائزوقف علامه ده دلته کښی دریدل غوره اونه دریدل
جائز دی .

ز ـ داد مجوّز وقف علامه ده دلته نه دریدل غوره دی .

ص ـ داد مرخّص وقف علامه ده دلته پیوست ( یوځای )
لوستل پکاردی لیکن که چیری خوک ستړی شی او ودریګی
نوهغه ته اجازه شته ،
معلومه شوه چه په(ص)پیوست لوستل د(ز)په نسبت ترجیح لری

صلے ـ داد اَلوَصَلُ أَوْلیٰ (یعنی وصل غوره) اختصاردی دلته
پیوست لوستل غوره دی .

**ق** ـ داد قِيلَ عليه الوَقف خلاصه ده دلته دريدل پكارنه دى.

**صل** ـ داد قَدْ يُوَصَلُ علامه ده دلته كله ودريدى شى اوكله نه ليكن دريدل غوره دى.

**قف** ـ داد قِفْ لفظ دى چه معنى ئ ده ودريكه اودا علامه هلته استعماليګى چه دلوستونكى دپيوستى وينا احتمال وى.

**س ياسكته** ـ داد سكتے علامه ده دلته لګ وخت دريدل پكاردى خوچه تنفّس باقى وى (يعنى ساماته نه شى).

**وقفه** ـ داد اوګدى سكتے علامه ده دلته دسكتے په نسبت ډير دريدل پكاردى ليكن چه تنفّس جارى وى (يعنى ساماته نه شى) په سكته او وقفه كښى دا فرق دى چه سكته كښى لګ وخت او په وقفه كښى ډير وخت ودريدى شى.

**لا** ـ دلا معنى چه نيشته داعلامه كله خود آيت پورته وى او كله دعبارت دننه كه دعبارت دننه وى نودريدل بالكل نه دى پكار او كه دآيت پورته وى نوبيا اختلاف دى. دځينو په نزد دريدل او دبعضو په نزد نه دريدل روادى خوكه څوك ودريد ياونه دريد په دى سره مطلب كښى څه خلل نه واقع كيګى وقف هلته نه دى پكارچه د عبارت دننه ليكلى وى.

**ك** ـ دادكَذٰلِكَ علامه ده يعنى چه كوم رمز (نښه) دى ك نه

وراندې لیکلی شوې ده دلته کښې دې همغه وګڼلی شي.

۵ ـ داددې علامه ده چه په دې ځای دغیرکوفیینو په نزد آیت ده که چاوقف وکړنوداعادې (دوباره ویلو) ضرورت نیشته.

∴ ـ داد درېو ټکو (نقطو) وقف نږدې راځي دې ته معانقه ویلی شي کله خوددې اختصار په مع سره لیکلی شي. ددې مطلب داده چه دا دواړه وقفونه لکه چه معانقه کوې اوحکم ئې داده چه په دې دواړو وکښې په یو باندې دریدل پکاردې په بل نه اوپه وقف کښې درموز و(نښو) قوت اوضعف ملحوظ ساتل پکاردي.

# داوّل جلد فهرس

## له (۱) تر (۱۵) پارے

## دسورة الفاتحة له ابتداء ترپای (آخر) (۷٤) آیت دسورة الکهف


| دسورت شماره | دسورت نامه | دصفحے رقم | دپارے شماره |
|---|---|---|---|
| ۱ | سُوْرَةُ الفَاتِحَة | ۱ | ۱ |
| ۲ | سُوْرَةُ البَقَرَة | ۵ | ۱ - ۲ - ۳ |
| ۳ | سُوْرَةُ آلِ عِمْرٰن | ۲٤۳ | ۳ - ٤ |
| ٤ | سُوْرَةُ النِّسَاء | ٤۲۳ | ٤ - ۵ - ٦ |
| ۵ | سُوْرَةُ المَائِدَة | ۵۸۱ | ٦ - ۷ |
| ٦ | سُوْرَةُ الأَنْعَام | ۷۲٤ | ۷ - ۸ |
| ۷ | سُوْرَةُ الأَعْرَاف | ۸٤۲ | ۸ - ۹ |
| ۸ | سُوْرَةُ الأَنْفَال | ۹۸۳ | ۹ - ۱۰ |
| ۹ | سُوْرَةُ التَّوبَة | ۱۰٤٤ | ۱۰ - ۱۱ |
| ۱۰ | سُوْرَةُ يُونس | ۱۱۵۷ | ۱۱ |
| ۱۱ | سُوْرَةُ هُود | ۱۲۳۱ | ۱۱ - ۱۲ |
| ۱۲ | سُوْرَةُ يُوسُف | ۱۳۱۱ | ۱۲ - ۱۳ |
| ۱۳ | سُوْرَةُ الرَّعد | ۱۳۹۲ | ۱۳ |
| ۱٤ | سُوْرَةُ ابرٰهيم | ۱٤۳۲ | ۱۳ |
| ۱۵ | سُوْرَةُ الحِجْر | ۱٤۷۰ | ۱۳ - ۱٤ |
| ۱٦ | سُوْرَةُ النَّحل | ۱۵۰۸ | ۱٤ |
| ۱۷ | سُوْرَةُ بنیٓ اسرآءيل | ۱۵۹۸ | ۱۵ |
| ۱۸ | سُوْرَةُ الكهف | ۱٦۷۸ | ۱۵ - ۱٦ |

بحمد الله تعالى وتوفيقه

# انتهى المجلد الأول

من الجزء (١) إلى (١٥)

من بداية سورة الفاتحة إلى نهاية الآية (٧٤) من سورة الكهف

دخدای تعالیٰ په مرسته (مدد) او توفیق اوّل جلد پای
(آخر) ته ورسید له (۱) تر (۱۵) پارے
دسورة الفاتحے له ابتداء تر پای (آخر) (۷٤) آیت
دسورة الکهف

بعون الله وتوفيقه
تم طبع هذا المجلد الأول من المصحف
الشريف وترجمة معانيه وتفسيره في مجمع
خادم الحرمين الشريفين الملك فهد لطباعة
المصحف الشريف بالمدينة المنورة بإشراف
وزارة الحج والأوقاف في المملكة العربية
السعودية عام ١٤١١هـ

حقوق الطبع محفوظة
لمجمع خادم الحرمين الشريفين الملك فهد
لطباعة المصحف الشريف

ص.ب ٣٥٦١ ـ المدينة المنورة

دلوی الله په مرسته
اوتوفيق سره دا رومبي جلد دقرآن
كريم سره دترجمے اوتفسيرچاپ دحرمينو
شريفينو د خادم پادشاه فهد د قرآن
كريم په چاپ خانه كښې د سعودی
عرب د حج او اوقافو د وزارت
داشراف او مشرۍ تر لاندے
چاپ ته اورسيد
کال ١٤١٤هـ

مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف
المراقبة النهائية
رقم ١٠٣٠١

دچاپ حقوق محفوظ دی
په حق كښې د حرمينو شريفينو د خادم پادشاه فهد
دقرآن كريم دچاپ خانے (ص ب ٣٥٦١) مدينه منوره

(٠١) (٤) (٢٢٥د/٤٠٠٠)

# د قرآن کریم

## ترجمه او تفسیر په پښتو ژبه کښې

رومبی جلد

له (۱) تر (۱۵)

پاره پورې

# القرآن الكريم
# وترجمة معانيه وتفسيره إلى
# لغة البشتو

---

## المجلد الثاني
## من الجزء (١٦) إلى (٣٠)

Translation of the Meanings and
Interpretations of

# THE NOBLE QURAN

in the Pushtu Language

---

Volume 2
Part (16) To (30)

# القرآن الكريم

وترجمة معانيه وتفسيره

إلى لغة البشتو

المجلد الثاني

من الجزء

(١٦) إلى (٣٠)

إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ

إِنَّهُ لَقُرْآنٌ كَرِيمٌ فِي كِتَابٍ مَكْنُونٍ لَا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُونَ تَنْزِيلٌ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ

تشرف بالأمر بطباعة هذا المصحف الشريف وترجمة معانيه وتفسيره
خادم الحرمين الشريفين الملك فهد بن عبد العزيز آل سعود
ملك المملكة العربية السعودية



# القرآن الكريم

وترجمة معانيه وتفسيره
إلى لغة البشتو

المجلد الثاني من الجزء (١٦) إلى (٣٠)

د
# قرآن كريم

ترجمه او تفسير
په پښتو ژبه كښې

دويم جلد له (١٦) تر (٣٠) پارے پورے

دد ے قرآن حكيم او دد ے پښتو ترجمے او تفسير د چاپ
د امر كولو سعادت د حرمينو شريفينو خادم پادشاه
فهد بن عبدالعزيز آل سعود د سعودي عرب
پادشاه ته حاصل شو

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

( كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ إِلَيْكَ مُبَٰرَكٌ لِّيَدَّبَّرُوٓاْ ءَايَٰتِهِۦ وَلِيَتَذَكَّرَ أُوْلُواْ ٱلْأَلْبَٰبِ )

الحمد لله رب العٰلمين القائل ( أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلْقُرْءَانَ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ ٱخْتِلَٰفًا كَثِيرًا ).

والصلوٰة والسلام على سيدنا محمد القائل (خيركم من تعلم القرءان وعلمه) والذى ثبت عنه عليه الصلوٰة والسلام انه قال( اقرؤوا القرءان فإنه يأتي شفيعا لأصحابه يوم القيامة) وعلى آله وأصحابه ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين .. وبعد :

فإنفاذا لأوامر خادم الحرمين الشريفين وناشر كتاب الله المجيد الملك فهد بن عبد العزيز - حفظه الله - في العناية بكتاب الله الكريم توثيقا وطباعة . والعمل على تيسير نشره وتوزيعه بين المسلمين وتفسير معانيه وترجمتها إلى اللغات المختلفة واعتبار تلك التوجيهات من أسمى الغايات والأهداف المرسومة لمجمع خادم الحرمين الشريفين الملك فهد لطباعة المصحف الشريف بالمدينة المنورة.

وبناء على التعاون القائم بين كل من الأمانة العامة للمجمع بالمدينة المنورة والأمانة العامة لرابطة العالم الإسلامي بمكة المكرمة في كل ما من شأنه خدمة كتاب الله الكريم ترجمة وطباعة ونشرا في جميع أنحاء العالم .

وإيمانا من الجميع بضرورة ترجمة معاني كتاب الله تعالى إلى جميع اللغات الفاعلة تحقيقا لمبدإ البلاغ والدعوة بالحكمة والموعظة الحسنة وتحقيقا لقوله تعالى ( وَتَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلْبِرِّ وَٱلتَّقْوَىٰ ) وخدمة لإخواننا الناطقين بلغة البشتو فإنه يطيب لرابطة العالم الإسلامي أن تقدم للقارئ الكريم هذا المصحف الشريف مع ترجمة معانيه وتفسيره إلى لغة البشتو المسماة اصطلاحا بتفسير "كابل" والتى قام بترجمتها باللغة الأردية فضيلة الشيخ محمود الحسن وتفسير فضيلة الشيخ شبير أحمد عثماني - يرحمهما الله - وقام بتحويلها إلى لغة البشتو هيئة من علماء أفغانستان ، ونظرا لوجود كلمات صعبة وقديمة الاستعمال ، فقد اعتمدت الرابطة الشيخ / سيد عبيد الله شاه - أحد علماء الباكستان الناطقين بهذه اللغة- لتوضيح تلك الكلمات بمايرادفها من الكلمات السهلة والمفهومة لدى علمة متكلمي لغة البشتو في أفغانستان وباكستان.وقدأقرت الترجمة وتمت المراجعة تحت إشراف رابطة العالم الإسلامي .

وإننا إذ نحمد الله تعالى أن وفقنا إلى إنجاز هذا العمل وتقديمه إلى الإخوة المسلمين الناطقين بلغة البشتو لنرجو أن يستلهم منه قراؤه نور الهدى والتقى بما يقوي إيمانهم ويثبت إسلامهم ويصلح أحوالهم في الدنيا والآخرة .

والرابطة إذ تقدم هذا الجهد بالتعاون مع المجمع لتعلم بأن الترجمات مهما بلغت دقتها لايمكن أن تصل إلى المقاصد العظيمة لنص القرآن الكريم المعجز وأن التفسير المذكور إنما هو حصيلة مابلغه علم المترجم في فهم كتاب الله الكريم ويعتريه مايتصف به البشر من نقص ،والكمال المطلق لله وحده .

لذا فيرجى من كل قارئ لهذه الترجمة إسداء النصح وتدوين الملاحظات العلمية الموثقة والمقترحات حولها وإرسالها إلى الأمانة العامة للمجمع أو لرابطة العالم الإسلامي للاستفادة منها في الطبعات القادمة إن شاء الله تعالى .

والله الموفق وهو الهادي إلى سواء السبيل ،،،

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

( كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ إِلَيْكَ مُبَٰرَكٌ لِّيَدَّبَّرُوٓا۟ ءَايَٰتِهِۦ وَلِيَتَذَكَّرَ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ )

الحمد لله رب العٰلمين القائل ( أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلْقُرْءَانَ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُوا۟ فِيهِ ٱخْتِلَٰفًا كَثِيرًا ).

والصلوٰة والسلام على سيدنا محمد القائل (خيركم من تعلم القرءان وعلمه) وعلىٰ آله وصحبه أجمعين .

د حرمينو شريفينو خادم د كتاب الله ناشر او د سعودي عرب بادشاه فهد بن عبد العزيز د قرآن كريم د طباعت او په مختلفو ژبو كښې د دے د ترجمو د چاپ كولو او تقسيمولو احكام جاري كړي دي. او د دے غرض دپاره ئې په مدينه منوره كښې د « مجمع خادم الحرمين الشريفين » په نوم د قرآن مجيد د طباعت دپاره يوه عظيم الشانه چاپ خانه جوړه كړے ده د دے پښتو تفسير د چاپ كار په دغه ستره مطبعه كښې سر ته ورسيد.

رابطه عالم اسلامي په دے خبره د خوشحالي اظهار كوي چه د خادم الحرمين الشريفين د احكاماتو په رڼا كښې د «مجمع» په تعاون سره د پښتو ژبے لوستونكو ته دا ترجمه او تفسير وړاندي كوي چه په پښتنو كښې د «تفسير كابلي» په نوم شهرت لري او دا تفسير د پاك و هند دؤو سترو عالمانو شيخ الهند مولانا محمود حسن ديوبندي او علامه شبير احمد عثماني په اردو ژبه كښې ليكلے، او بيا د افغانستان د سترو عالمانو يو ټولګي پښتو ژبے ته اړولے دے.

په دے پښتو ترجمه كښې بعضے ټكي ګران او زاړه وو ، چه موجوده وخت كښې ئے استعمال كم شوے وو، نو په دے غرض رابطه عالم اسلامي مكة المكرمة د پاكستان يو عالم دين او د پښتو ژبے ماهر مولانا سيد عبيد الله شاه ته دا كار وسپاره چه هغه دي په دے تفسير كښې د ګرانو ټكو سره خوا په خوا په قوسينو كښې د هغے مترادف الفاظ وليكي چه د پاكستان او افغانستان د عامو لوستونكو دپاره آسان شي. د ترجمے او نظرثاني دا ټول كار د الله په فضل د «رابطے» د نګراني لاندې سر ته ورسيد.

«رابطه» د «مجمع» په تعاون دا هديه پښتنو مسلمانانو ته دے احساس سره وړاندي كوي چه ترجمه كه هر څومره په كوشش سره وكړے شي خو بيا هم د قرآن كريم د اصل معجزانه عبارت بدل هيڅري نشي كيدے . دا فقط د مترجم د پوهے مطابق د كتاب الله ترجماني ده او انسان د نقص نه خالي نه دے . نو په دے وجه مونږ ټولو لوستونكو ته خواست كوو چه هغوي د دے ترجمے او تفسير د مزيد ښه كولو دپاره خپل آراء او مستند علمي تجاويز رابطه عالم اسلامي ته راؤليږي چه په راتلونكي چاپ كښې د هغے نه استفاده وكړے شي.

والله الموفق وهوالهادي إلى سواء السبيل

# القرآن الكريم

وترجمة معانيه وتفسيره
إلى لغة البشتو

المجلد الثاني من الجزء (١٦) إلى (٣٠)

مجمع خادم الحرمين الشريفين الملك فهد
لطباعة المصحف الشريف

# دَ قُرْآنِ کَرِيم

## ترجمه او تفسير

## په پښتو ژبه کښې

**دويم جلد** له (۱٦) تر (۳۰) پارے پورے

چاپ خانه د حرمينو شريفينو د خادم
پادشاه فهد د قرآن کريم د طباعت لپاره

قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَّكَ اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ مَعِيَ صَبْرًا ﴿٧٥﴾

نو وويل (خضر موسٰی ته) آیا ما نه ؤ ویلی تاته چه بیشکه ته له سره به ونه کړی شی طاقت له ما سره د صبر.

**تفسیر:** ځکه چه داسی حالات او واقعات درواندی کیږی چه ته د هغو په کتلو سره نشی صبر کولی او نه پری چپ پاتی کیدی شی ـ لکه چه هم داسی هم وشو.

قَالَ اِنْ سَاَلْتُكَ عَنْ شَیْءٍۭ بَعْدَهَا فَلَا تُصٰحِبْنِیْ قَدْ بَلَغْتَ مِنْ لَّدُنِّیْ عُذْرًا ﴿٧٦﴾

نو وویل (موسٰی) که چیری وپوښتم زه تا (ای خضره) د څه (منکر) شی (چه صادر شی له تا) وروسته له دی سؤاله پس ملګرتیا مه کوه له ما سره په تحقیق ورسیدی ته له طرفه ځما (حد د) عذر ته.

**تفسیر:** حضرت موسٰی علیه السلام داسی تخمین فرمائلی ؤ چه د حضرت خضر علیه السلام د دغو حیرت راوړونکو واقعاتو ته په صبر او سکوت سره کتل ډیر دروند او لوی زړه غواړی نو ځکه د خپل د زړه آخری خبره ئی وویله چه که په دغه مرتبه بیا تری پوښتنه وکړم نو دی می بیا له خپله ځانه سره نه ملګری کوی او دی به پخپل دغه عمل کښی معذور وی ـ او ځما له لوری کوم الزام پر هغه باندی نشی عائد کیدی ـ ځکه چه ده د دریو مرتبو موقع راکړه او ده پخپله د حجت اتمام فرمائلی دی.

فَانْطَلَقَا ٚ حَتّٰۤی اِذَاۤ اَتَیَاۤ اَهْلَ قَرْیَةِ ٍاسْتَطْعَمَاۤ اَهْلَهَا فَاَبَوْا اَنْ یُّضَیِّفُوْهُمَا فَوَجَدَا فِیْهَا جِدَارًا یُّرِیْدُ اَنْ یَّنْقَضَّ فَاَقَامَهٗ ؕ

بیا روان شول دواړه تر هغه پوری کله چه راغلل اهل د یوه کلی ته نو طعام وغوښت دوی له خلقو د هغه (کلی) څخه پس منع راوړه (هغو خلقو) له دی نه چه میلمستیا ورکړی دغه خلق دوی ته بیا وموند دوی (دواړو) په هغه

کلی کښې يو ديوال چه اراده ئې وه چه ونړيږی (يعنې نژدی ؤ لويدلو ته) پس سم کړ (خضر) هغه ديوال (په يو شان ترميم سره)

**تفسير:** يعنې يوه کلي ته ورسيدل او د هغه له خلقو سره ئې ملاقات او کتنه وکړه ـ او داسي به ئې ګڼل چه د دغه کلي خلق به د دوی سره د ميلمنو سلوک وکړی او دوډی به ورکړی ـ مګر دغه سعادت د هغوی په برخه کښې نه ؤ ـ او دوی د موسٰی او خضر عليهما السلام په شان عزيزو مقربانو د ميلمستيا څخه انکار وکړ. نو د داسې معاملې د ليدلو څخه داسې په کار ؤ چه پر داسې تنګ زړه او بې مروته خلقو دوی په قهريده. مګر خضر عليه السلام د قهر په ځای پر دوی احسان وفرمايه. د دوی يو لوی ديوال ځوړند او کوږ شوی ؤ. او نژدی ؤ چه ونړيږی او خلق د هغه د چار چاپيره لری ګرځيدل. حضرت خضر عليه السلام لاس او پښې ورلوخې (متی ونغاړلې) کړی او هغه ځوړند ديوال ئې ورسم کړ. او د انهدام له حالته ئې وساته.

**تنبيه:** په «حتىٰ اذا اتيا اهل قرية» د اهل لفظ ئې ښائي د دی جهته راوړی وی چه دغه کلي ته د دوی راتګ محض على سبيل العبور او مرور نه ؤ او نه په داسې يو صورت سره ؤ چه د دی ځای د هستيدونکو څخه بل په کوم سرای يا حجره کښې ئې اړولې وو. بلکه قصداً يې د دغه ښار له خلقو سره ملاقات فرمايلی دی او په ﴿ اِسْتَطْعَمَآ اَهْلَهَا ﴾ کښې دوهم ځل د «اهل» د لفظ تصريح، د دوی د مزيد تقبيح دپاره دی يعنې هغو هستيدونکو چه دوی ته لازم ؤ چه د دغو معظمو ميلمنو ميلمستيا ئې کړی وی، دوی مسافران او کوچيان نه وو چه داسې عذر او پلمه (بهانه) به ئې وړاندی کوله چه ځمونږ کور او کلی دلته نشته نو ستاسې ميلمستيا به څرنګه وکړی شو؟

قَالَ لَوْ شِئْتَ لَتَّخَذْتَ عَلَيْهِ اَجْرًا ﴿٧٧﴾

وويل (موسٰی خضر ته) که اراده کړی وی تا (د اخيستلو د اجر) نو خامخا به دی اخيستی وی (په سازولو د دی ديوال) مزدوری.

**تفسير:** يعنې د دغه کلي خلقو د ميلمنو حق ونه پيژند چه ځمونږ ميلمستيا ئې کړی وی تا ولې خوشې ويړيا د دوی ځوړند ديوال ورتينګ کړ؟ که د هغه څه معاوضه دی اخيستی وی نو ځمونږ خوراک او نور ضروريات به تری په لاس راتله او دغو تنګ زړو بخيلانو ته به هم تری لږ څه تنبيه کيده. ګوندی دوی به پر خپلې دغې بد اخلاقې او بې مروتی لږ شرميدل.

قَالَ هٰذَا فِرَاقُ بَيْنِيْ وَبَيْنِكَ سَاُنَبِّئُكَ بِتَاْوِيْلِ مَا لَمْ تَسْتَطِعْ عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿٧٨﴾

وويل (خضر موسٰی ته) دا دی وقت د بیلتون په منځ څما او په منځ ستا کښې اوس به ژر خبر کړم تا (ای موسٰی!) په غرض د هغه کار چه ونه کړی شو تا طاقت په هغه باندی د صبر.

**تفسیر:** یعنی له هغی وعدی سره سم ښائی چه اوس له ما څخنی تاسی بیلتون وفرمایئ! څما او ستا موافقت او ګذاره سره ګرانه ده ـ او له سره نشی کیدی لیکن پخوا له بیلتانه غواړم چه د دغو تیرو دریو واړو واقعاتو پټ اسرار تاسی ته دربنکاره کړم ـ چه د هغو په فکر او چرت (خیال) کښې له تاسی څخه د صبر او استقامت شان قائم نشو پاتی.
حضرت شاه صاحب لیکی «په دغه مرتبه کښې موسٰی علیه السلام عمداً تری پوښتنه وکړه ـ څو تری مرخص شی څکه وپوهید چه دغه علم څما له مذاقه سره برابر نه دی. د موسٰی علیه السلام علم هغه ؤ چه د هغه په متابعت سره عامو مخلوقاتو ته فوائد او ګټی وررسیدی ـ او د خضر علیه السلام هغسی شیان ؤ چه د هغه متابعت د نورو خلقو له لاسه نه ؤ پوره.

أَمَّا ٱلسَّفِينَةُ فَكَانَتۡ لِمَسَٰكِينَ يَعۡمَلُونَ فِي ٱلۡبَحۡرِ

هر څه هغه بیړی (چه ما سوری کړی وه) نو وه دپاره د هغو عاجزانو چه کار به ئی کاوه په بحر (سیند) کښې.

**تفسیر:** یعنی په سیند کښې محنت او مزدوری ئی کوله او خپلی ګیدی ئی په هغه سره مرولی.

فَأَرَدتُّ أَنۡ أَعِيبَهَا وَكَانَ وَرَآءَهُم مَّلِكٞ يَأۡخُذُ كُلَّ سَفِينَةٍ غَصۡبٗا ٧٩

نو وغوښته ما چه عیب ژنه کړم هغه حال دا چه ؤ لږ څه لری له دوی نه یو پاچا چه اخیسته به ئی هره یوه بیړی په زور سره (نو څکه می سوری کړه).

**تفسیر:** یعنی په هم هغه لوری چه دغه بیړی روانه وه په هم هغه طرف یو ظالم پاچا ؤ چه هره یوه جوړه بیړی به ئی په زور سره نیوله او پخپل کار کښې د بیګار په دول (طریقه) به یی په کار اچوله. نو ما وغوښته چه هغه بیړی عیب ژنه کړم څو د هغه ظالم پاچا له بیګاره خلاصه او د هم دغو مسکینانو د کار دپاره هم هغسی ورانه او ویجاړه پاتی شی څکه چه په هم دغو ایامو کښې د هغه پاچا سړی په بیړی پسی راغلی. کله چه هغه سوریٔ او عیب ژنه ومومی نو د هغی د

اخیستلو څخه به سترګی واړوی. په څینو آثارو کښی راغلی دی. کله چه د خطر موقع تیره شوه نو خضر علیه السلام ورغی او هغه بیړی ئی پخپل لاس بیا هم هغسی جوړه او سنباله کړه.

ماته می کړله بیړی د مسکینانو ▪ چه ورنشی دا په لاس د غاصبانو

مات اسباب چه وی په لاس کښی د مالکو ▪ دیر بهتر دی د قبضی د ظالمانو

وَأَمَّا الْغُلَامُ فَكَانَ أَبَوَاهُ مُؤْمِنَيْنِ فَخَشِينَا أَنْ يُرْهِقَهُمَا طُغْيَانًا وَكُفْرًا ﴿٨٠﴾

او هر څه هلک (چه وژلی ؤ ما) پس وو مور او پلار د ده مومنان پس وویریدو مونږ له دی چه وبه رسوی (مکلف به کړی دغه هلک) دوی په سرکشی او کفر (که ژوندی پاتی شی).

**تفسیر:** اګر که فطرتاً هر مولود مسلمان پیدا کیږی. مګر وروسته له هغه د خارجی اثراتو تر تاثیر لاندی راغلی په هم دغه هلکتوب کښی د څینو خرابو اعمالو اساس او بنیاد پکښی لویږی چه د هغه کامل علم یواځی پاک الله ته وی خو بیا هم د هغه څینی آثار اهل البصیرت ته هم ورښکاریږی. د دغه هلک په نسبت رب العزت حضرت خضر علیه السلام ته پوه او خبر ورکړی ؤ چه د هغه بنیاد پر خرابی او شرارت باندی مرکزیت نیولی دی که کبارت ته ورسیږی موجب د مضرت او د ده د بنوت مینه او محبت او د امیت او ابوت لطف او شفقت د ده د مور او پلار د کفر او معصیت او مذلت سبب ګرځی نو د داسی یو هلک وژل د هغه د والدینو دپاره رحمت او د هغوی د دینی حفاظت سبب وګرځید. د الله تعالیٰ دا منظور ؤ چه د هغه مور او پلار پر خپل ایمان قائم اوسی او د الله تعالیٰ حکمت مقتضی ؤ چه راتلونکی خطره او ممانعت د دوی له مخی لری شی نو خضر علیه السلام ته ئی حکم وکړ چه دغه هلک ووژنه. ده د پاک الله د وحی په امتثال هغه هلک وواژه.

اوس دغسی سؤال چه «ښائی دغسی هلک ئی له سره نه پیدا کاوه او بیا ئی چه پیدا کړی ؤ ښائی چه ښه عمل ئی وربه برخه کړی وی او دومره شرارت ئی نه وی ورکړی یا هغسی چه په ملینونو کفار شته پریښودلی به ئی وی چه د هغه والدین به هم کافران کیده. یا د دغسی وړکیو چه بنیاد او اساس ئی په خرابه او غلطه لویدلی وی د هغو ګرد (تول) فهرست ښائی چه انبیاء علیهم السلام ته ورکړی کیده څو ئی دوی وژل» د دغو ګردو (تولو) خبرو اجمالی جواب خو دا دی چه په (۱۷) جزء د الانبیاء (۲۳) آیت (۲) رکوع کښی راغلی دی ﴿لَا يُسْأَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْأَلُونَ﴾ او د تفصیلی جواب دپاره د «خیر او شر» پر مسئله د مبسوط کلام ضرورت شته چه په دغو مختصرو فوائدو کښی نشی ځائیدی. هو! ښائی دومره مو په یاد وی چه په دنیا کښی

له هر سړی څنې چه الله تعالیٰ «**خالق الکل**» او «**علیم او حکیم**» منی د تکویناتو په متعلق په دی قسم سره په زړهاؤ سؤالونه کیدی شي چه د هغوی جواب د هیچا سره نشته او بالمقابل پرته (علاوه) د عجز او قصور له اعترافه بل هیڅ شي نشي کیدی. دلته د خضر علیه السلام په ذریعه د هغه یوه نمونه وربښوول مقصود ؤ چه د پاک الله د حکمتونو او د ده د تکوینیه ؤ مصالحو احاطه د هیچا له لاسه نه ده پوره کله د یوی واقعي ظاهري صورت په ظاهر کښي خراب او قبیح او بي موقعه راښکاري. لیکن هغه څوک چه د دغي واقعي په باطني اعماقو او زوایاؤ باندی معلومات لری هغه پوهیږی چه په دغه کښي ډیر حکمتونه او مصالح پراته دی خضر علیه السلام د هغو مسکینانو د بیړی ډېره ورماته کړه. حال دا چه هغوی له ده سره ښه او احسان کړی ؤ او بلا اجرت ئي دی پر بیړی سور کړی ؤ. یو لویی کوونکی شکلی پیمخی هښیار هلک ئي خوشي چتی(فضول) او بیګناه او خطاء ووژه چه په ظاهر کښي دغه حرکت نهایت خراب او قبیح حرکت څرګندیده (ښکاره کیده) دیوال ئي سم او ساز کړ چه ظاهراً ئي پر هغو کلیوالو احسان وکړ. چه هغوی په ډیری بي مروتي له دوی سره معامله کړی وه که پخپله خضر علیه السلام په آخر کښي خپل د دغو اعمالو توجیهات نوی بیان کړی. نو تر نن ورځی پوری به ګرد (تول) جهان د چرت په سیند کښي ډوب ؤ. یا «العیاذ بالله خضر علیه السلام به ئي د طعن او تشنیع هدف کاوه. له هم دغو مثالونو څخه د الله تعالیٰ د افعالو او د ده د حکمتونو اندازه وکړئ!

---

فَأَرَدْنَآ أَن يُبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيْرًا مِّنْهُ زَكَوٰةً وَأَقْرَبَ رُحْمًا ﴿٨١﴾

---

نو وغوښته مونږ دا چه بدل ورکړی دوی ته رب د دوی (خیر بهتر غوره) له دی هلک څخه په پاکی (صلاح) کښي او ډیر نژدی به وی له جهته د رحم مهرباني.

---

**تفسیر:** یعني د هغه هلک په وژلو سره د ده د والدینو ایمان محفوظ پاتي شو او هغه صدمه چه دوی ته ورسیده الله تعالیٰ اراده لری چه د هغی تلافي په داسي یوه مولود سره وکړی چه په اخلاقي صفاتو او مزایاؤ د هغه مقتول هلک څخه ډیر ښه او د مور او پلار د شفقت او مهرباني مورد وګرځی. او هغه به د خپل مور او پلار سره زیات محبت ولری او په ډیر تعظیم او ښه سلوک وروړاندی کیږی وروسته له هغه الله تعالیٰ هغوی ته یوه صالحه جینئ ورعطاء کړه چه له یوه نبي سره په نکاح منسوبه شوه. او یو بل نبي د دی له ګیډی څخه پیدا شو چه بالوسیله یو لوی امت د دوی په برکت د سعادت مفخرت وموند.

وَأَمَّا الْجِدَارُ فَكَانَ لِغُلَٰمَيْنِ يَتِيمَيْنِ فِي الْمَدِينَةِ وَكَانَ تَحْتَهُۥ كَنزٌ لَّهُمَا وَكَانَ أَبُوهُمَا صَٰلِحًا فَأَرَادَ رَبُّكَ أَن يَبْلُغَآ أَشُدَّهُمَا وَيَسْتَخْرِجَا كَنزَهُمَا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ وَمَا فَعَلْتُهُۥ عَنْ أَمْرِى ذَٰلِكَ تَأْوِيلُ مَا لَمْ تَسْطِع عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿٨٢﴾

او هر څه (هغه) ديوال (نړيدونکی چه ساز می کړ) پس ؤ د هغو دوو هلکانو يتيمانو په (هغه) ښار کښې او ؤ لاندی د هغه (ديوال) خزانه د دغو دواړو او ؤ پلار د دوی صالح، نو اراده وکړه رب د تا چه ورسيږی (دغه دواړه) قوت (د ځلميتوب) خپلو ته او بيا ئی راوباسی هغه (خښې کړی شوی) خزانی خپلی (محض) له جهته د رحم مهربانی له جانبه د رب د تا، او نه دی کړی ما دغه تير اعمال (چه تا وليد) له خپله ځانه (او په حکم او فکر خپل) دغه دی (دری واړه) جوابونه د هغو پيښو چه طاقت نشو کولی تا پر هغه د صبر.

**تفسير:** يعنی که هغه ديوال لويده نو د هغو يتيمانو هغه خزانه چه تری لاندی خښه کړی شوی وه راخرګنديده. او بدنيتو خلقو به هغه رايستله د دغو يتيمانو پلار يو ښه صالح سړی ؤ. د هغه د نيکی په رعايت د الله جلجلاله اراده داسی وشوه چه د دغو يتيمانو د مال حفاظت وکړی شی. نو ما د الله جلجلاله په حکم هغه ديوال سم کړ. چه هغه هلکان وروسته له ځلميتوبه د خپل پلار خزانه بيا وموندلی شی. وائی چه په دغه خزانه کښې برسيره پر نورو اموالو يوه د سرو زرو تخته هم وه چه پری «محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم» ښکلی شوی ؤ. نو ای موسٰی عليه السلام هر هغه کار چه د الله تعالیٰ په حکم اجرا شوی وی عبادت دی او پر هغه باندی مزدوری (باړه) اخيستل د مقربانو کار نه دی.

**تنبيه:** د دی قصی په شروع کښې د حضرت خضر عليه السلام د نبوت او ولايت په متعلق څه شی چه مونږ ښکلی دی هغه دی بيا دلته يو ځلی ولوست شی. وروسته د «ذوالقرنين» قصه راځی. چه دغه هم د هغو دريو شيانو څخه ده. چه د هغو په نسبت د يهودانو په مشوره قريشو پوښتنه کړی وه. د«روح» په متعلق لازمه جواب د «بنی اسرائيل» په سورت کښې تير شو. د «اصحاب الکهف» د قصی په نسبت د هم دغه «الکهف» د سورت په ابتداء کښې معلومات ورکړ شو. دغه دی چه د دريم سؤال په نسبت اوس لازمه ارشاد کيږی.

وَيَسْـَٔلُونَكَ عَن ذِي ٱلْقَرْنَيْنِ ۖ قُلْ سَأَتْلُوا۟ عَلَيْكُم مِّنْهُ ذِكْرًا ﴿٨٣﴾
إِنَّا مَكَّنَّا لَهُۥ فِى ٱلْأَرْضِ وَءَاتَيْنَٰهُ مِن كُلِّ شَىْءٍ سَبَبًا ﴿٨٤﴾

او پوښتنه کوی مشرکان (په ښوولو د یهودانو) له تا نه له قصی د ذوالقرنین؛ ووایه (ای محمده! دوی ته) اوس به زه ولولم پر تاسی له ده څه احوال؛
بیشکه چه مونږ قدرت ورکړی ؤ ده ته په ځمکه کښی او ورکړی ؤ مونږ ده ته (له هر محتاج الیه) څیز څخه یوه لیاره (روښانه رسوونکی مقصد ته).

**تفسیر:** هغه پاچا ته ځکه «ذوالقرنین» وائی چه د دنیاء دواړو څندو (مشرق و مغرب) ته تللی ؤ. ځینی وائی چه دغه د رومی «اسکندر» لقب دی.
ځینی وائی کوم بل مقبول دیندار الله منونکی پاچا له دی نه ړومبی تیر شوی ؤ.
«حافظ ابن حجر رحمة الله علیه» په «فتح الباری» کښی په متعددو وجوهو او دلائلو سره دغه دوهم قول ته ترجیح ورکړی ده.
د روایاتو له مجموعی څخه ظاهریږی چه «ذوالقرنین» د حضرت ابراهیم علیه السلام معاصر ؤ ـ او د ده په دعاء او برکت سره پاک الله ده ته خارق العاده سامان او وسائل عطاء فرمائلی ؤ ـ چه د هغو په ذریعه ده ته د مشرق او مغرب په سفر کښی بری په برخه شو. او پر محیرالعقولو فتوحاتو ئی قدرت وموند. حضرت خضر علیه السلام د ده وزیر ؤ. ښائی له هم دی جهته قرآن شریف د خضر علیه السلام قصی سره متصله د هغه قصه بیان فرمائی د عربو قدیمی شعراؤ پخپلو اشعارو کښی د «ذوالقرنین» نوم په ډیر لویئی او عظمت سره یاد کړی دی او د ده پر عربیت ئی فخر کړی دی. له دی نه ظاهریږی چه دغه «ذوالقرنین» د تاریخی عهد څخه پخوا کوم جلیل القدر عربی پاچا ؤ. ښائی اسکندر ته به ئی د هغه سره د یوه راز (قسم) مشابهت له سببه «ذوالقرنین» ویلی وی اوس د قدیمه ؤ آثارو اروپائی ماهرین د قدیمی سامی عربو د داسی عظیم الشانو سلطنتونو سراغ او نښه لګولی ده چه د هغوی کومه مفصله تذکره په تاریخی اوراقو کښی له سره نشته. بلکه د ځینو ممتازو او مشهورو سلاطینو د نومونو د تذکری پوری هم په تاریخی کتابونو کښی نشته. مثلاً «حمورابی» پاچا چه اغلباً د حضرت ابراهیم علیه السلام په عهد کښی ئی ژوندون کاوه او د هغه په نسبت ویلی کیږی چه د دنیا ړومبنی مقنن ؤ. چه د هغه قوانین د بابل په مناره (څلی) کتلی شوی په لاس راغلی دی او انګلیسی ترجمه ئی شائع شوی ده ـ د پخوانیو کتباتو څخه د ده عجیب او غریب عظمت ثابتیږی په هر حال «ذوالقرنین» به د هم دغی کورنی څنی د کوم پاچا نوم وی.

فَأَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٨٥﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ ٱلشَّمْسِ وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِى عَيْنٍ حَمِئَةٍ

پس ونیوله ده لیاره (او هغه اسباب چه وئی رساوه مغرب ته) تر هغه پورې چه ورسید ځای د پریوتلو د لمر ته نو وئی مونده دغه (لمر) چه ډوبیده په (لویه) چینه کښې (لکه سیند ډک) له تورو ختو.

**تفسیر:** یعنی د سفر ترتیب او تجهیز او سر رشته ئی وکړه (او پیروی وکړه ذوالقرنین د هغې لیارې چه د مغرب په لورې تله تر هغه پورې چه ورسید ځای د پریوتو د لمر ته نو ذوالقرنین ومونده دغه لمر لره چه ډوبیده په یوه لویه چینه کښې لکه سیند ډک له تورو ختو) یعنی داسې ئې په نظر راغې لکه چه په سمندر کښې سفر کوونکو ته هم ښکاری چه لمر له اوبو څخه وځی او په اوبو کښې ډوبیږی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی. «ذوالقرنین ته داسې شوق پیدا شو چه وګوری چه د دنیا ودانی تر کومه ځایه پورې اوږده شوی ده. نو د مغرب په طرف کښې تر هغه ځایه پورې ورسید چه چیکړه او دلدل ؤ چه پرې نه انسان او نه پیری تیریدی شو ـ نو د الله تعالیٰ د ملک حدود ئی معلوم نشو کړی».

وَّوَجَدَ عِنْدَهَا قَوْمًا ۗ قُلْنَا يٰذَا الْقَرْنَيْنِ إِمَّآ أَنْ تُعَذِّبَ وَإِمَّآ أَنْ تَتَّخِذَ فِيهِمْ حُسْنًا ﴿٨٦﴾

او وئی مونده نژدې هغه ته یو قوم (د کفارو)؛ وویل مونږ ای ذوالقرنینه یا خو په عذاب کړه دغه خلق (که ایمان رانه وړی په قتل سره) یا ونیسه په دوی کښې یوه ښه لیاره (که ایمان راوړی په ارشاد او نصیحت سره).

**تفسیر:** یعنی «ذوالقرنین» ته مونږ پر هغو خلقو د دغو دواړو خبرو قدرت ورکړ ـ لکه چه هر پاچا او حاکم ته په نیکو او بدو باندې داسې قدرت حاصل وی. که غواړې خلق عذابوی او ځان ته بدنامی حاصلوی ـ او که غواړې عدل او انصاف او نیکی اختیاروی او خپل د خیر ذکر باقی پریږدی یا به ئی دا مطلب وی چه هغه خلق کافران وو ـ مونږ «ذوالقرنین» ته اختیار ورکړ ـ چه که وغواړې هغوی ووژنی یا ړومبئ د اسلام په لورې دعوت او بلنه ورته ورکړی. نو «ذوالقرنین» دغه دوهم شق اختیار کړ.

قَالَ أَمَّا مَنْ ظَلَمَ فَسَوْفَ نُعَذِّبُهُ ثُمَّ يُرَدُّ إِلَىٰ رَبِّهِ فَيُعَذِّبُهُ عَذَابًا نُّكْرًا ﴿٨٧﴾ وَأَمَّا مَنْ

وَأَمَّا مَنْ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَـٰلِحًا فَلَهُۥ جَزَآءً ٱلْحُسْنَىٰ ۖ وَسَنَقُولُ لَهُۥ مِنْ أَمْرِنَا يُسْرًا ﴿٨٨﴾

نو وویل (ذوالقرنین) هر څه هغه څوک چه ظلم ئی وکړ (په نفس خپل په دوام د کفر) پس ژر به په عذاب کړو دی (په دنیوی عذاب) بیا به بوتلی شی (طرف د) رب خپل ته پس په عذاب به کړی (الله) دی په عذاب لوی سره (په عقبیٰ کښې). او هر هغه چه ایمان ئی راوړ او عمل ئی وکړ صالح پس ده ته ده جزاء نیکه (په دارینو کښې چه نعمت او جنت دی). او ژر ده چه وبه وایو ده ته له کاره خپله آسانه (په ده باندی).

**تفسیر:** یعنی په آخرت کښې به نیکی ومومی او په دنیا کښې مونږ پر دوی څه سختی نه راولو بلکه د خپل کار دپاره هر کله چه دوی ته کومه خبره ووایو نو په سهولت او نرمی سره ورته وایو فی الحقیقت هر هغه پاچا چه عادل وی د هغه کار او د عمل طرز به هم داسی وی چه له بدانو سره بدی کوی او هغوی په سزا رسوی او له نیکانو سره لطف او نرمی کوی ـ لکه چه «ذوالقرنین» هم دغه طریقه ځان ته غوره کری وه.

ثُمَّ أَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٨٩﴾

بیا ئی ونیوله بله لیاره (او هغه اسباب چه رساوه ئی مشرق ته).

**تفسیر:** یعنی د مغربی سفر څخه فارغ شو او د مشرق په طرف د خپل سفر په تجهیز، ترتیب او سر رشته مشغول شو ـ په لوی قرآن او حدیث کښې دغه نه ده تصریح شوی چه د «ذوالقرنین» دغه گرد (تول) سفرونه د فتوحاتو او ملک نیولو دپاره ؤ. ممکن دی چه د محض سیر او سیاحت په ډول (طریقه) وی. د دغو سفرونو په ضمن کښې دی به پر هغو اقوامو هم تیر شوی وی چه د ده تر حکومت لاندی راغلی وو او ځینی نور اقوام به وی چه «ذوالقرنین» ئی یو زورور پاچا لیدلی او گڼلی وی، د ظالمانو په مقابل کښې به ده ته خپل عرضونه او فریادونه وړاندی کری وی چه د هغو گردو (تولو) انسداد به «ذوالقرنین» پخپل فوق العاده قوت او زور سره کری وی ـ لکه چه اوس د «یاجوج او ماجوج» قصه راځی. والله اعلم.

حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَطْلِعَ ٱلشَّمْسِ وَجَدَهَا تَطْلُعُ عَلَىٰ قَوْمٍ لَّمْ نَجْعَل لَّهُم مِّن دُونِهَا سِتْرًا ﴿٩٠﴾

تر هغه پوری کله چه ورسید ځای د راختلو د لمر ته نو وئی موند هغه (لمر) چه راخوت پر یوه قوم باندی چه نه وه ګرځولی مونږ دوی ته له لاندی د دی (لمر) کومه پرده.

**تفسیر:** یعنی د مشرق په انتهاء کښی ئی داسی قوم ولید چه د لمر اشعه (پلوشی) مستقیماً بی له ممانعته او بی له حجابه ورسیدی دا خلق به وحشیان او ځنګلیان وی ـ د کور جوړولو او د چت پټولو چل به ئی هم نه ؤ زده یا به پکښی دود (رواج) او دستور نه وو ـ لکه چه اوس هم په ډیرو وحشیو او ځنګلیو او ځینو کوچیانو کښی هم دغه دود او دستور او رواج لیده کیږی.

کَذٰلِكَ ؕ وَقَدۡ اَحَطۡنَا بِمَا لَدَيۡهِ خُبۡرًا ﴿٩١﴾

هم داسی ؤ (حال د ذوالقرنین چه مذکور شو) او په تحقیق احاطه کړی وه مونږ په هغه شی باندی چه د ده شخه ؤ (له لښکرو او لوازمو) له جهته د خبرداریٔ.

**تفسیر:** یعنی د «ذوالقرنین» د مشرق او د مغرب د سفر کوم کیفیت چه بیان کړی شو هغه په واقع کښی هم داسی دی. هغه وسائل چه د ده سره ؤ ـ او هغه حالات چه ده ته وروړاندی شوی دی ـ پر هغو ګردو (ټولو) ځمونږ علم محیط دی. ښائی چه مؤرخینو به په دغه مورد کښی بل څه ویل ـ او هغه به فی الحقیقت هم دغومره قدر وی چه وفرمایه شو. ځینو مفسرینو د «کذلک» مطلب داسی اخیستی دی هغه رویه چه «ذوالقرنین» د مغربی اقوامو په نسبت اختیار کړی وه کټمټ (هوبهو) هم هغه رویه ئی د مشرقی اقوامو سره هم اختیار کړی وه (والله اعلم).

ثُمَّ اَتۡبَعَ سَبَبًا ﴿٩٢﴾ حَتّٰۤی اِذَا بَلَغَ بَيۡنَ السَّدَّيۡنِ وَجَدَ مِنۡ دُوۡنِهِمَا قَوۡمًا ۙ لَّا يَكَادُوۡنَ يَفۡقَهُوۡنَ قَوۡلًا ﴿٩٣﴾

بیا ونیوله ده بله لیاره (او تیار ئی کړ نور اسباب). تر هغه پوری چه ورسید منځ د دواړو غرونو ته نو وئی‌موند وړاندی د دغو دواړو (غرونو) داسی قوم چه نه ؤ نژدی (اکثر د دوی) چه وپوهیږی په خبره (د ذوالقرنین) باندی.

**تفسير:** دغه دريم سفر ئى پرته (علاوه) له مشرقه او مغربه د كوم دريم جهت په طرف كړى ؤ مفسرين دغه ته د شمالى سفر وائى خو په قرآن او حديث كښې د هغه څه تصريح نشته.
**تنبيه:** د دغه قوم او «يأجوج، مأجوج» په منځ كښې به دغسې دوه غرونه حائل ؤ چه پر هغو به ختل ناممكن ؤ خامخا د دغو دواړو غرونو په منځ كښې به كومه دره وه ـ چه له هغى خلاصى ليارى به «ياجوج ، ماجوج» راتلل ـ او خلق به ئى شكول ـ او راز راز (قسم قسم) ظلمونه او زياتى به ئى پرى كولى ـ او بيرته به تلل.

قَالُوا يٰذَا الْقَرْنَيْنِ اِنَّ يَاْجُوْجَ وَمَاْجُوْجَ مُفْسِدُوْنَ فِى الْاَرْضِ فَهَلْ نَجْعَلُ لَكَ خَرْجًا عَلٰٓى اَنْ تَجْعَلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ سَدًّا ﴿٩٤﴾

وويل دغو (ترجمانانو) اى ذوالقرنينه! بيشكه چه يأجوج او مأجوج فساد كوونكى دى په ځمكه كښې پس آيا (حكم كوى ته چه) مقرر كړو تاته څه خرج محصول لپاره د دى كار چه جوړ كړى ته په منځ ځمونږ او په په منځ د دوى كښې يو ديوال.

**تفسير:** د «ذوالقرنين» د فوق العاده اسبابو او وسائلو او قوت او حشمت د ليدلو څخه دوى ته به داسې خيال پيدا شوى وى چه ځمونږ د دغو تكاليفو او مصائبو انسداد به د ده له لاسه پوره وى نو ځكه ئى عرض وكړ چه «يأجوج، مأجوج» ځمونږ په ملك لويه غلبه او شورماشور غورځوى او تل راځى مونږ وژنى، او ځمونږ مال او شته تالا كوى او مونږ په راز راز (قسم قسم) ربړو (تكليفونو) آخته كوى. كه تاسى ځمونږ او د هغوى په منځ كښې كوم تينګ او كلك ديوال او سد راجوړ كړئ، چه مونږ پرى محفوظ شو نو پر دغه كار هر څومره لګښت چه وشى مونږ د هغه مال تأديې ته حاضر يو ـ ښائى چه تاسى دغه مصرف زمونږ د ماليى او محصول او اجرت په شان تحصيل كړئ!.
**تنبيه:** «يأجوج مأجوج څوك دى»؟ په كوم ملك كښې اوسيږى؟ د «ذوالقرنين» هغه جوړ كړى سد (د اوسپنى ديوال) چيرى دى؟ دا هغه سوالات دى چه د هغو په متعلق د مفسرينو او مؤرخينو اقوال سره مختلف دى. ځما خيال دا دى (والله اعلم) چه د «يأجوج مأجوج» قوم د عامو انسانانو او پيريانو په منځ كښې يو برزخى مخلوق دى. او لكه چه «كعب الاحبار» ويلى دى او «نووى» په فتاوى كښې له ګردو (ټولو) علماؤ څخنى نقل كړى دى د دوى د نسب سلسله د پلار له طرفه آدم عليه السلام ته منتهى كيږى، مګر د مور له لورى بى بى حواء رضى الله تعالىٰ عنها ته نه رسيږى. ګواكى دوى له نورو انسانانو سره يواځى په پلار كښې شريكان دى څه عجب

چه «لوی دجال» چه تمیم داری هغه په کومه جزیره کښې بندی او مقید لیدلی ؤ. د هم دغه قوم څخه وی ـ کله چه حضرت مسیح علیه السلام چه محض د یوه آدمی زاد بی بی مریمی صدیقی رضی الله تعالیٰ عنها له بطنه د ملکیه ؤ نفخه ؤ په ذریعه پیدا شوی دی او وروسته د من السماء له نزوله به دجال وژنی په دغه وقت کښې به دغه قوم «یأجوج مأجوج» هم پر دنیا خروج کوی ـ او بالاخر به د مسیح علیه السلام په فوق العاده دعاء مری.
اوس دغه قوم چیری دی؟ او د «ذوالقرنین» د اوسپنی دیوال چیری واقع دی؟ نو هر هغه شوک چه دغه کرد (تول) اوصاف ـ تر خپل نظر لاندی ونیسی چه د هغه ثبوت د دغه قوم او د اوسپنی د دیوال په متعلق په لوی قرآن او صحیحه ؤ احادیثو کښې شته ـ نو هغه به وائی د هغو اقوامو او ملکونو او دیوالونو نښه او پته چه خلقو په خپله رایه سره ورکړی ده ـ پر هغو د دغو اوصافو مجموعی څښی یو وصف هم نه موندلی کیږی ـ لهٰذا هغه خیالات صحیح نه ښکاری ـ او له صحیحه ؤ احادیثو څخه انکار ـ یا د نصوصو بعیده تأویلات له دی نه خلاف دی. پاتی شوه د مخالفینو دغه شبهه ـ چه مونږ کرد (تول) د ځمکی مخ لتولی دی مګر هیچیری د دغو شیانو نښه او پته مو نه ده موندلی؟
نو د دغی شبهی د جواب دپاره ځمونږ مؤلفینو د پتی او نښی شوولو دپاره ډیر زیار (محنت) او کوښښ ایستلی دی خو د دی صحیح جواب هم دغه دی ـ چه «علامه آلوسی بغدادی» ورکړی دی
«مونږ ته د هغه موقع نه ده معلومه او ممکن دی چه ځمونږ او د هغه په منځ کښې به دغه حاضره زمانه کښې لوی لوی سیندونه حائل وی ـ او په هغه وقت کښې له کومی لوئی وچی سره لکه (سائبریا) او (امریکا) به نښتی وی ـ او داسی دعوی چه مونږ پر تول بر او بحر (وچه او لونده) حالاً وماضیاً وآتیاً محیط شوی یو واجب التسلیم نه دی. عقلاً جائز دی هم هغسی چه له نن ورځی (١٣٢٣ ش) تر نژدی پنځه سوه کلونو د مخه پوری د امریکی براعظم نه ؤ راڅرګند شوی اوس هم ویلی شو چه ممکن دی داسی بل کوم براعظم هم موجود وی چه تر اوسه پوری به مونږ له هغه څښی معلومات نه لرو. او امکان شته چه لږ وقت وروسته یا به مونږ هلته ورسیږو ـ یا هغه خلق به مونږ ته ځان ورسوی.
د سمندر د دیوال تحقیقات چه د« آستریلیا » په شمال مشرقی ساحل واقع دی او څه وقت پخوا له دی نه د یو برطانوی سائنس دان «ډاکتر سی ایم بنګ» تر کتنی او هدایاتو جاری وو دغه دیوال له زر میله زیات اوږد او په ځینو ځینو مقاماتو کښې تر دوولسو میلو پوری عریض او زر فیته ارتفاع لری، چه پری ډیر مخلوق هستوګنه لری هغه ډله چه د دغه کار دپاره روانه شوی وه خپل یو کلنی تحقیقات ئی پای (اخر) ته رسولی دی چه د هغه د رپوټ د لوستلو څخه د سمندر عجیب او غریب اسرار منکشف کیږی او انسان ته د حیرت او استعجاب یوه نوی دنیا معلومیږی. بیا نو څرنګه داسی دعوی کیدی شی چه مونږ پر کردو (تولو) بریه ؤ او بحریه ؤ مخلوقاتو او موجوداتو خبردار، او د هغو مکمل اکتشافات حاصل کړی دی! په هر حال کله

مخبر صادق چه د هغه صدق په قطعیه ؤ دلائلو ثابت دی د دی دیوال څخه سره د هغه د اوصافو خبر راکړی دی نو پر مونږ واجب دی چه د هغه تصدیق وکړو او د هغو د واقعاتو په انتظار کښی سترګی په لیار ولرو چه د مشککینو او منکرینو علی‌الرغم هرومرو (خامخا) راتلونکی دی.

ستبدی لک الایام ما کنت جاهلا ▪ ویاتیک بالاخبار من لم تزود

هغه شی چه ته پری اوس ښه نه پوهیږی ▪ درڅرګند به ئی زمان کړی لکه لمر بیا

قَالَ مَا مَكَّنِّي فِيهِ رَبِّي خَيْرٌ فَأَعِينُونِي بِقُوَّةٍ أَجْعَلْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ رَدْمًا ﴿٩٥﴾

وویل (ذوالقرنین) هغه چه اقتدار راکړی دی ماته په هغه (شی) کښی رب ځما خیر ډیر غوره دی (له ورکړی د تاسی نه چه محصول دی) پس مرسته (مدد) وکړئ تاسی له ما سره (په زیار (محنت) ځما کښی تول) په (انسانی) قوت (او عمل نه په مال) سره چه جوړ کړم په منځ د تاسی او په منځ د دوی کښی یو پریړ (او محکم) دیوال.

**تفسیر:** یعنی مال له ما سره ډیر دی مګر په لاسونو او پښو له ما سره په زیار (محنت) او زحمت تیرولو کښی مرسته (مدد) وکړئ!

اٰتُونِي زُبَرَ الْحَدِيدِ ۖ حَتَّىٰ إِذَا سَاوَىٰ بَيْنَ الصَّدَفَيْنِ قَالَ انْفُخُوا ۖ حَتَّىٰ إِذَا جَعَلَهُ نَارًا قَالَ آتُونِي أُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا ﴿٩٦﴾

راواخلئ تاسی ماته تختی د اوسپنی تر هغه پوری (ئی اینښودلی چه) برابر شو دا دیوال په منځ د دوو څوکو (د غرو) نو وویل (ذوالقرنین) چه پو کړئ! (پر دغو سکرو چه اچولی شوی دی په منځ د تختو د اوسپنی نو پو ئی کړل) تر څو چه وګرځوله دغه (اوسپنه) اور وویل (ذوالقرنین) راوړئ ماته چه تونی کړم په دی دیوال زیړ (ویلی شوی).

**تفسیر:** یعنی ړومبی ئی د اوسپنی لوئی لوئی تختی سر په سر لاندی باندی سره کیښودی ـ او یو له بل سره تینګی او کلکی ئی کړی ـ څه مهال چه د هغو لوړوالی (دنګ والی) د دواړو غرونو څوکو ته ورسید (نو پری لرګی او سکاره انبار کړل شول) او خلقو ته ئی امر ورکړ چه د

دغه اور په لګولو او پو کولو کښې راسره مرسته (مدد) وکړئ (چه په يوه آن او يوه شيبه کښې له يوه سره تر بل سره پورې او له پاسه تر ښکته پورې يو ځلې ولګيږي او بيا ژر ترې لرې او ګوښه شئ) کله چه اوسپنه د اور پشان سره او ګرد (تول) سره يو جسم شوه - په دغه وقت کښې ويلې شوه ژير ئې پرې راتوئې کړه - چه د هغو اوسپنو په درزونو او چاودونو کښې ننوتل - او بيخي ئې نژدې او پيوست کړه او ګرده (توله) سره يو شوه - او د يو سخت غرنې ديوال پشان وګرځيد - دغه ګرد (تول) کارونه په دغه زمانه کښې ظاهراً د يوه خارق العاده طريقې سره به انجام موندلې وي چه ښايي هغه د «ذوالقرنين» له کرامته وګڼله شي - يا ممکن دی چه په هغه وقت کښې به داسې اقسام آلات او اسباب موندلې کيده چه پر هغو اوس ځمونږ علم نه رسيږي.

فَمَا اسْطَاعُوٓا أَن يَّظْهَرُوهُ وَمَا اسْتَطَاعُوا لَهُ نَقْبًا ﴿٩٧﴾

پس طاقت به نه وی د دوی چه وخيژی پرې (او ښکاره شي پرې له جهته د لوړوالي (دنګ والي) او ښويوالي) او نه به طاقت وی د دوی دغه (غره) ته د سوری کولو (له جهته د سختوالي او پريړوالي).

**تفسير:** يعني الله تعالیٰ في الحال يأجوج مأجوج ته دغه قدرت نه دی ورکړی چه دغه ديوال سوری کړی يا ئې ونړوی او ترې تير شي.

قَالَ هَٰذَا رَحْمَةٌ مِّن رَّبِّي ۖ فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ رَبِّي جَعَلَهُ دَكَّآءَ ۖ وَكَانَ وَعْدُ رَبِّي حَقًّا ﴿٩٨﴾

وويل (ذوالقرنين) دغه (اتمام د سد) او اقتدار ځمونږ په جوړلو د هغه يو رحمت دی له جانبه د رب ځما (پر مخلوقاتو) نو هر کله چه راغله وعده د رب ځما (په خروج د دغو قبيلو) نو وبه‌ګرځوی دا (سد) هوار برابر له ځمکی سره، او ده وعده د رب ځما حقه (ريښتيا ثابته).

**تفسير:** يعني محض د الله تعالیٰ په مهرباني دغه سد قائم شو او تر معينه ميعاده پورې به قائم پاتې شي له صحيحه ؤ احاديثو ځخه معلوميږي چه د حضرت مسيح عليه السلام د نزول او د دجال د قتله وروسته قيامت ته نژدې د يأجوج مأجوج د وتلو وعده ده نو دغه سد به له منځه لرې کړ شي - او دغه ديوال به دوی ونړوی او په هومره يو کثير تعداد به دوی ترې ووځي او

راتوئیږی چه د هغوی شمیر پرته (علاوه) له الله تعالیٰ بل هیچا ته به نه وی معلوم ـ ګرده (تولـه) دنیا به د دوی له مقابلی عاجزیږی ـ حضرت مسیح علیه السلام ته به حکم ورکړ شی چه ځما له خاصو بندګانو سره پر «طور» باندی لاړ شه ـ بالاخر مسیح علیه السلام د الله په دربار کښی دعاء او راز او نیاز وکړی ـ نو وروسته له هغه پر یأجوج مأجوج باندی یوه غیبی وباء مسلطه کیږی ـ او ګرد (تول) سره یو ځلی مړه کیږی ، زیات تفصیلات دی د احادیثو په کتابونو کښی په «باب امارات الساعة» کښی ولید شی.

(دلته د ذوالقرنین حکایت تمام شو ـ نو بیا فرمائی الله تعالیٰ)

---

وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ يَمُوجُ فِي بَعْضٍ وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَجَمَعْنَاهُمْ جَمْعًا ﴿٩٩﴾ وَعَرَضْنَا جَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لِّلْكَافِرِينَ عَرْضًا ﴿١٠٠﴾

---

او پری به ږدو ځینی د دوی په دغه ورځ (د وتلو) کښی چه موج به وهی (له ډیر ازدحامه او ننوځی) په ځینو نورو کښی او پو به کړی شی په صور (شپیلی) کښی پس راجمع به کړو مونږ دغه (مخلوقات) تول (لپاره د جزاء) او راوړاندی (نژدی او ښکاره) به کړو جهنم (دوزخ) په دغی ورځی کښی کافرانو ته په وړاندی (او نژدی او ښکاره) کولو سره (دپاره د هیبت).

---

**تفسیر:** یعنی یأجوج مأجوج د سمندر د موجونو او لویو څپو په شان په بیشماره تعداد غند ، غند د لویو سیندونو د لویو لویو څپو په دول (طریقه) راوځی او راتوئیږی. یا ئی دا مطلب چه د هول او خوف او ویری او اضطراب لامله (له وجی) به ګرد (تول) مخلوقات سره ګدود او خلط ملط شی ـ جن او انس به یو له بله سره ننوځی او یو لوی شور ماشور او سخته غلبله به جوړه شی ـ بیا به د قیامت علائم ښکاره شی ـ او د اسرافیل علیه السلام صور (شپیلی) به وپوکله شی. وروسته له هغه به ګرد (تول) خلق د الله تعالیٰ په حضور کښی د محشر په ډګر کښی سره راتولیږی. او وړاندی به راځی ـ او دوزخ به د کفارو په مخ کښی وروړاندی کیږی. ښائی د کفارو تخصیص د دی دپاره کړی شوی وی چه اصلاً دوزخ د هم دغو دپاره تیار شوی دی او د دوی پر سترګو باندی به دنیا کښی پردی لویدلی وی چه پر هغه ئی یقین او باور کړی وی ـ او اوس هغه پرده تری لری شوی ده.

إِلَّذِينَ كَانَتْ أَعْيُنُهُمْ فِي غِطَاءٍ عَن ذِكْرِي وَكَانُوا لَا يَسْتَطِيعُونَ سَمْعًا ﴿١٠١﴾

هغه کافران چه وی (د زړه) سترګی د دوی په پرده کښی (له ډیره غفلته) له یاده ځما او وو دوی چه نه توانیدل اوریدل (د کلام د حق له جهته د بغض د نبی).

**تفسیر:** یعنی یخپله د دوی د عقل سترګی نه وی پرانستلی چه د قدرت دلائل او نښی ئی پری لیدلی وی ـ او باور او یقین ئی پری راوړی وی ـ او د الله تعالیٰ په یاد کښی لګیدلی وی ـ او له ډیره ضده او عناده د هیڅا خبره ئی نه آوریده ـ او هغه چه بل چا ده ته ورښوده پر هغه پوهیدلی وی.

أَفَحَسِبَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَن يَتَّخِذُوا
عِبَادِي مِن دُونِي أَوْلِيَاءَ إِنَّا أَعْتَدْنَا جَهَنَّمَ لِلْكَافِرِينَ نُزُلًا ﴿١٠٢﴾

آیا ګمان کوی هغه کسان چه کافران شوی دی د دی چه نیسی دوی بندګان ځما (عیسٰی ـ عزیر ـ ملائک) پرته (علاوه) له ما څخه دوستان (معبودان چه زه دوی نه په عذابوم بلکه) بیشکه مونږ تیار کړی مو دی جهنم (دوزخ) دپاره د کافرانو پراو (یا میلمستیا)

**تفسیر:** آیا منکرین داسی ګمان کوی چه ځما د خاصو بندګانو مسیح علیه السلام عزیر علیه السلام روح القدس علیه السلام ملائک د عبادت کولو په سبب به دوی د خپل حمایت او مرستی (مدد) دپاره ودروی ﴿ كَلَّا سَيَكْفُرُونَ بِعِبَادَتِهِمْ وَيَكُونُونَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا ﴾ له سره داسی نه دی! دوی یخپله به ستاسی د دغو حرکاتو څخه د بیزاری اظهار وفرمائی او ستاسی په مقابل کښی به د مدعی په شان په ضد او عناد د تاسی ودریږی. (نو تاسی ته نه ښائی چه په دغه فکر او خیال کښی مغرور پاتی شئ چه په عقبیٰ کښی به تاسی ته څه سزا نه درکوله کیږی بلکه په عذابیږئ او دوزخ تاسی ته تیار او په انتظار دی) یعنی په دغه چرت ـ خیال او فریب کښی مه اوسیږئ! هلته به هیڅوک ستاسی پوښتنه هم نه کوی. هو! مونږ ستاسی دپاره میلمستیا تیاره کړی ده د دوزخ له اوره او له قسما قسم عذابونو څخه (اعاذناالله منها).

قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُم بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا ﴿١٠٣﴾ الَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ

فِي الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا ﴿١٠٤﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) آیا خبر کړو تاسی په ډیرو سختو زیانکارانو باندی له جهت د عمله؛ دوی هغه کسان دی چه ورک (او توی تللی) دی منډی (او زیار) د دوی په دغه ژوندون لږ خسیس کښی (ځکه چه غافلان وو له آخرته) حال دا چه دوی ګمان کوی د دی چه بیشکه دوی ښه کوی کار (او عمل او په واقع کښی داسی نه ده).

**تفسیر:** یعنی د قیامت په ورځ کښی له ګردو (تولو) څخه په زیاته خساره کښی به هغه کسان وی چه د دوی ګرد (تول) فعالیت ـ مساعی او ځغلیدل یواځی د دنیا دپاره ؤ او له سره د آخرت فکر به ورسره نه ؤ ـ محض دنیوی ترقیات او مادی کامیابی به ئی خپله لویه ترقی او معراج ګڼله **(کمایفهم من الموضح)** یا به ئی دا مطلب وی چه هغه کارونه چه دوی په دنیوی ژوندون کښی نیک او ښه ګڼل اعم له دی نه چه هغه به په واقع کښی ښه ؤ یا خراب هغه ګرد (تول) د کفر له نحوسته هلته بیکاره ثابت شول ـ او تول محنتونه ئی توی او برباد لاړل او ګرد (تول) سره خراب شول.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ وَلِقَائِهِ فَحَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَزْنًا ﴿١٠٥﴾

دغه کسان (چه بیرته یاد شول) هغه کسان دی چه کافران شوی دی په آیاتونو (د قدرت) د رب خپل (په دنیا کښی) او په لقاء د دغه (الله په آخرت کښی) پس باطل خراب شول عملونه د دوی پس وبه نه درووو دپاره د دوی په ورځ د قیامت کښی تله (ځکه چه حسنات نه لری یا تله د نفعی به دوی ته نه درووو).

**تفسیر:** یعنی نه ئی د الله تعالیٰ د قدرت دلائل ومنل او نه ئی داسی خیال وکړ چه کله به د هغه په مخ کښی حاضریږم. (نو د داسی کسانو ګرد (تول) زیار (محنت) بیکاره ثابتیږی، ځکه چه) د کافرانو حسنات مړه او بی اثره دی. او په ابدی ژوندون کښی له سره په کار نه ورځی ـ نو اوس د دوی دپاره پرته (علاوه) له کفریاتو او سیآتو یوه پله (پټ) څرنګه تلله شی؟ وزن (تلل) خو د موازنی دپاره وی ـ او موازنه د متقابلو شیانو کیږی ـ دلته خو د سیآتو بالمقابل یو

حسنه هم نشته نو بیا وزن به د څه دپاره وی؟ یا دا چه وزن شته مګر دوی ته دغه وزن هیڅ ګټه (فائده) او منفعت نه رسوی بلکه دوی ته لا زیان رسوی او ښه پری ملزم کیږی.

ذٰلِكَ جَزَآؤُهُمْ جَهَنَّمُ بِمَا كَفَرُوْا وَاتَّخَذُوْٓا اٰيٰتِيْ وَرُسُلِيْ هُزُوًا ﴿١٠٦﴾

(کار) دغه (دی چه اعمال د دوی باطل شول) جزا د دوی ده دوزخ په سبب د دی چه کافران شوی ؤ دوی او نیولی ؤ دوی آیاتونه (د قدرت) ځما او رسولان ځما مسخره.

**تفسیر:** یعنی هغه توکی مسخری مو چه کولی او ملندی مو چه وهلی ـ اوس د هغو خوند وڅکئ!

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنّٰتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا ﴿١٠٧﴾
خٰلِدِيْنَ فِيْهَا لَا يَبْغُوْنَ عَنْهَا حِوَلًا ﴿١٠٨﴾

بیشکه هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه) شته دوی ته (په علم الله کښی) جنتونه د فردوس (اعلیٰ ـ غوره) بهتر ځای د هستوګنی (میلمستیا پیشکشی) چه تل به وی په دغو (جنتونو) کښی نه به غواړی دوی له دغو (جنتونو) څخه ګرځیدل (او وتل بل ځای ته).

**تفسیر:** یعنی نه به تری مریږی او تل تر تله به په هم هغه ځای کښی خپل اوسیدل او هستوګنه غواړی ـ او شیبه په شیبه په تازه نعمتونه وررسیږی ـ او له سره داسی کوم فکر او خیال به دوی ته نه پیدا کیږی چه مونږ به له دغه ځایه بل ځای ته منتقل کړی شو.

قُلْ لَّوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا لِّكَلِمٰتِ رَبِّيْ
لَنَفِدَ الْبَحْرُ قَبْلَ اَنْ تَنْفَدَ كَلِمٰتُ رَبِّيْ وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهٖ مَدَدًا ﴿١٠٩﴾

ووایه (ای محمده! دوی ته) که شی (اوبه د) بحر سیاهی دپاره (د لیکلو) د کلماتو د رب ځما نو خامخا تمام به شی بحر پخوا له هغه نه چه تمام شی کلمات د رب ځما (ځکه چه معلومات او مقدرات د الله غیر متناهی دی) او

اګر که راوړو په مثل د دغه بحر (نور بحار هم) مدد ګار.

**تفسیر:** قریشو د یهودانو په لمسون او اشاره د «روح» او د «اصحاب الکهف» او د «ذوالقرنین» په نسبت سؤال کړی وو ـ د دغه سورت په ابتداء کښی د «اصحاب الکهف» او په آخر کښی ئی د «ذوالقرنین» قصه تر هغه ځایه پوری چه د قرآن په موضوع پوری متعلق وه بیان وفرمایل. او د «روح» په متعلق ئی د «بنی اسرائیل» په سورت کښی وفرمایل! ﴿وَمَآ أُوتِيتُم مِّنَ ٱلْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا﴾ اوس د سورت په خاتمه کښی دا راښیی چه د الله تعالیٰ د علم او حکمت کلام او خبری بی انتهاء دی، هغه خبری چه ستاسی له ظرفه او استعداده او ضرورت سره لائقی دی هغه مو دروښودی، دغه د الله تعالیٰ د معلوماتو په مقابل کښی دومره هم نه دی لکه یو څاڅکی د اوبو د سمندر (لویو سیندونو) په مقابل کښی فرض ئی کړئ که د سمندر د ګردو (ټولو) اوبو څخه سیاهی جوړه شی ـ او په هغی د الله تعالیٰ د خبرو په لیکلو لاس پوری کړی شی ـ او هغه د سمندر اوبه بیخی وچی شی ـ او بیا دوهم ځلی او دریم ځلی بیا دغه سمندر ډک او تش شی ـ نو دغه ګرد (ټول) سمندرونه به وچیږی ـ مګر د پاک الله جلت عظمته واعظم برهانه خبری او کلام نه ختمیږی ـ له هم دی ځایه وپوهیږئ چه د عظیم الشان قرآن او نورو سماویه ؤ کتابونو په ذریعه اګر که ډیر وسیع علم په ډیر زیات مقدار چاته ورکړ شی نو هغه هم د الله تعالیٰ د علم په مقابل کښی قلیل دی اګر که فی حد ذاته ورته کثیر هم ویلی شو.

قُلْ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَىٰٓ إِلَىَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ فَمَن كَانَ يَرْجُوا۟ لِقَآءَ رَبِّهِۦ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَٰلِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِۦٓ أَحَدًۢا ﴿١١٠﴾

ووایه (ای محمده !) بیشکه هم دا خبره ده چه زه یو بشر سړی یم پشان ستاسی چه وحی راځی ماته چه بیشکه هم دا خبره ده چه معبود ستاسی معبود دی یو پس هر څوک چه وی چه امید لری د (اخروی) ملاقات د رب خپل (په ښه وجه سره) نو ښائی چه (تل) عمل وکړی عمل صالح (ښه) او نه دی شریکوی په عبادت د رب خپل کښی هیڅوک.

**تفسیر:** یعنی زه ستاسی پشان یو بشر او انسان یم ـ خدای نه یم ـ چه اصلاً او ذاتاً ګرد (ټول) علوم او کمالات ماته حاصل وی. هو! الله تعالیٰ جل‌جلاله حقانی علوم او قدسی معارف ماته وحی رالیږی چه په هغه کښی اصل الاصول علم التوحید دی. د هغه په طرف زه ګردو (ټولو) ته دعوت ورکوم ـ هغه څوک چه د الله تعالیٰ د لقاء شائق وی ـ یا د ده سره مقابل کیدلو څخه خائف وی نو د هغه دپاره پکار دی چه ښه ښه کارونه او اعمال له شریعته سره موافق وکړی! او د الله

تعالیٰ په بندګۍ کښې هیڅوک په هیڅ یوه درجه کښې ظاهراً او باطناً مل او شریک نه کړی! یعنې د جلي شرک په شان د ریاء او نور خفي شرک څخه هم ځان وساتي ځکه په هر عبادت کښې چه د غیر الله شرکت وی هغه به بیرته د هم هغه عابد په مخ ویشتل کیږی.

**اللهم اعذنا من شرور انفسنا!**

په دغه آیت کښې ئې اشاره فرمایلې ده چه د نبي علم هم متناهي او عطائي دی او د الله تعالیٰ د علم په شان ذاتي او غیر متناهي نه دی.

**تمت سورة الکهف بفضل الله تعالیٰ ومنه ولله الحمد.**

---

سورة مریم مکیة الا آیتی (٥٨) و (٧١) فمدنیتان وهی ثمان وتسعون آیة
وست رکوعات رقمها (١٩) تسلسلهاحسب النزول (٤٤)
نزلت بعد سورة «فاطر»

د «مریم» سورت مکی دی پرته (علاوه) له (٥٨) او (٧١) آیتونو څخه چه مدنی دی اته نوی آیتونه او شپږ رکوع لری په تلاوت کښې (١٩) او په نزول کښې (٤٤) سورت دی. وروسته د «فاطر» له سورت څخه نازل شوی دی.

---

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

(شروع) په نامه د الله چه خورا (ډیر) مهربان ډیر رحم والا دی.

---

كٓهٰيٰعٓصٓ ① ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ عَبْدَهٗ زَكَرِيَّآ ②

(دغه چه بیرته لوستلی کیږی) ذکر د رحمت مهربانی د رب ستا دی پر بنده خپل زکریا.

---

**تفسیر:** حضرت زکریا علیه السلام د «بني اسرائیلو» د جلیل القدرو انبیاؤ څخه دی. په بخاري شریف کښې راغلي دی چه ده د نجاری (ترکاني) کار او د خپل لاس د ګټې ډوډی به ئې خوړله ـ د ده قصه پخوا له دی نه د آل عمران په (٤) رکوع ځمونږ د دی پښتو فوائد موضح الفرقان تفسیر کښې لیکلی شوی ده هلته دی بیا ولوست شي!.

إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥ نِدَآءً خَفِيًّا ﴿٣﴾

کله چه غږ (سوال) ئی وکړ رب خپل ته غږ (سوال) ورو (په نیمه شپه کښی).

**تفسیر:** وائی چه د شپی په تیاره او په خلوت کښی په ورو غږ سره لکه چه د دعاء اصله قاعده ده دعا وکړه ـ ځکه چه داسی دعاء له ریاء شخه لری او د اخلاص له کماله معموره وی کما مر فی سورة الاعراف (٧ رکوع) ﴿ اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً ﴾ شائی دغه خیال ئی هم په زړه کښی ګرځیدلی وی چه زه په دغه زوړوالی کښی څوک غواړم ـ که راپه برخه نشی نو آوریدونکی خلق به راپوری خاندی برسیره په هغه په زوړتوب کښی طبعاً غږ هم ورو کیږی ـ او په طبیعی دول (طریقه) سره هم زاړه ورو ورو غږیږی.

قَالَ رَبِّ إِنِّى وَهَنَ ٱلْعَظْمُ مِنِّى وَٱشْتَعَلَ ٱلرَّأْسُ شَيْبًا وَلَمْ أَكُنۢ بِدُعَآئِكَ رَبِّ شَقِيًّا ﴿٤﴾

وویل (زکریا پخپله دعاء کښی) ای ربه ځما بیشکه زه چه یم سست ضعیف شوی دی تول هدوکی له ما شخه او شعلی وهی سر (ځما) له جهته د سپینوالی حال دا چه هیڅیری نه یم پاتی شوی په سوال (ځما) له تا نه ای ربه ځما محروم ناامیده.

**تفسیر:** یعنی په ښکاره دول (طریقه) سره د موت وقت قریب دی ـ ځما د سر په ویښتانو کښی د زوړتوب سپینوالی ځلیږی ـ او زه تر هدوکو پوری هم وچ شوی یم نو ای پاک الله تعالیٰ تا په خپل فضل او رحمت سره تل ځما دعاوی قبولی کړی دی او په مخصوصو مهربانیو سره دی روږدی (بلد) او عادی ګرځولی یم ـ نو اوس په دغه آخری وقت او زوړوالی کښی به زه څرنګه ګمان وکړم چه ځما دعاء به نه قبلوی؟ او له خپلی مهربانی او رحمت شخه به می بی برخی او بی هیلی (ناامیده) وګرځوی؟ ځینو مفسرینو د ﴿ وَلَمْ أَكُنْۢ بِدُعَآئِكَ رَبِّ شَقِيًّا ﴾ معنی داسی اخیستی ده «ای ربه ستا په دعوت او امتثال د اوامرو د تا کښی هیڅکله زه نه یم شقی او نافرمان ثابت شوی یعنی هر مهال (وخت) دی چه ماته کوم حکم فرمائلی دی سم برابر می د هغه امتثال کړی دی او د هغه د اطاعت او فرمان منلو سعادت می راحاصل کړی دی.

وَإِنِّى خِفْتُ ٱلْمَوَٰلِىَ مِن وَرَآءِى وَكَانَتِ ٱمْرَأَتِى عَاقِرًا فَهَبْ لِى مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا ﴿٥﴾ يَرِثُنِى

وَيَرِثُ مِنْ آلِ يَعْقُوبَ وَاجْعَلْهُ رَبِّ رَضِيًّا ﴿٦﴾

او بیشکه زه ویرېږم له دې خپلوانو (خپلو) له وروسته (د مرګه) ځما (د خرابولو د دین ستا) او ده ښځه ځما شنډه نو وبښه ماته له طرفه خپله یو متولی (د دیني امورو حق وارث) چه میراث یوسی له ما څخه (دینی امور) او میراث یوسی (علم او حکمت) له آل د یعقوب نه او وګرځوی دې ای ربه ځما غوره کړی شوی.

**تفسیر:** د ده اقارب او خپلوان او تربوران به نا اهله وې ـ او ده ته به ویره پیدا شوی وې چه دغه خلق وروسته له ما له خپلو بدو عملونو او غلطو چارو د دین او نیکۍ لیاره خرابه نه کړی او هغه دینی او روحانی دولت چه د یعقوب علیه السلام کورنی ته منتقل شوی دی او حضرت زکریا علیه السلام پورې رسیدلی دی دوی پخپلو شرارتونو او بدتمیزیو سره ضائع نه کړی.
﴿ وَكَانَتِ امْرَأَتِي عَاقِرًا ﴾ او ده ښځه ځما شنډه نو وبښه ماته له طرفه خپله یو متولی د دینی امورو حق وارث چه میراث یوسی له ما څخه دینی امور او میراث یوسی علم او حکمت له آل د یعقوب).
یعنی زه زوړ او سپین ږیری یم ـ او ښځه می (بی بی ایشاع د بی بی مریمی ترور) هم شنډه (او ۹۸ کلنی) ده د وړوکی پیدا کیدلو ظاهری سامان هیڅ نشته لیکن ته پخپل لامحدوده قدرت او رحمت سره ماته هلک راعطاء کړی! چه دینی خدمات ایفاء او سنبال کړی او ستا دغه مقدس امانت بار پر خپلو اوږو واخیستی شی ـ ځما له لاسه به دغه ضعیفی او زوړوالی کښې څه کیدی شی ـ زړه می غواړی چه یو داسی لائق ځوی ولرم چه د خپل پلار او نیکونو مقدسه وظائف انجام ـ او د هغوی په مطهره سجاده باندی کښینی ـ او د دوی د علم او د حکمت د خزانو مالک او د نبوت د کمالاتو وارث شی.
**تنبیه:** له صحیحه احادیثو څخه ثابت دی چه د انبیاؤ علیهم السلام په مال کښې وراثت نه جاری کیږی ـ د دوی وراثت د علم او حکمت په دولت کښې نافذ کیږی. پخپله د اهل التشیع د«کافی کلینی» له مستنده کتابه هم په «روح المعانی» کښې د هم دغه مضمون څو روایات نقل کړی شوی دی ـ لهٰذا متعین دی چه په ﴿ يَرِثُنِي وَيَرِثُ مِنْ آلِ يَعْقُوبَ ﴾ کښې مالی وراثت نه دی مراد چه د هغه تائید پخپله د آل یعقوب څخه کیږی ـ ځکه ظاهر دی چه د ګرد (تول) آل یعقوب د اموالو او املاکو وارث یواځې د زکریا علیه السلام ځوی به څه دول (طریقه) کیدی شو؟ بلکه هم دغه د وراثت ذکر په دغه موقع کښې دغه راښکاروی چه مالی وراثت نه دی مراد ـ ځکه چه دغه به ګرده (توله) دنیا کښې مسلمه ده چه ځوی د خپل پلار د مال وارث کیدی شی. نو بیا به دعاء کښې د هغه ذکر چتی(فضول) او بیکاره ؤ ـ داسی خیال کول چه حضرت زکریا علیه السلام د خپل مال او دولت په فکر او اندیښنه کښې ؤ چه چیری دغه مال او شته

ځما له کوره ونه وځي ـ او دیني اعمامو او تربورانو او نورو خپلوانو کره لاړ نشي، نهایت سپک او تیټ خیال دی ـ د انبیاء علیهم السلام له لوی شان څخه دغه فکر ډیر لری دی چه د دنیا د رخصت کیدلو په وقت کښې د دنیوی حقیر متاع په فکر او چرت کښې ولویږی ـ چه دغه به چیری لاړ شي؟ او له چا سره به وی؟ او لطف په دغه کښې دی چه حضرت زکریا علیه السلام دومره لوی دولتمن او د شتو خاوند هم نه ؤ او د ترکانی (نجاری) په کار کښې به مشغول ؤ ـ او د هغې د معمول څخه به ئې خپلې شپې او ورځې تیرولې ـ او قوت لایموت به ئې حاصلاوه نو ښه دغسې یو سپین ږیری متوسط المال نبی ته به څرنګه داسې یوه مفکوره او غم او اندیښنه پیدا کیدی شي چه ځما څلور پیسې دی ځما د خپلوانو او اقاربو په لاس کښې ونه لویږی (العیاذ بالله).

﴿ وَاجْعَلْهُ رَبِّ رَضِيًّا ﴾ او وګرځوی دی ای ربه ځما غوره کړی شوی «رضی» په وزن د «فعیل» دی په معنی د مفعول چه راضي کړی شوی دی).

یعنی داسې یو هلک راکړه چه د خپلو اخلاقو ـ اعمالو او اطوارو په لحاظ ستا او ځما او د ګردو (ټولو) صالحانو خوښ او پسند وی.

---

يَٰزَكَرِيَّآ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَٰمٍ ٱسْمُهُۥ يَحْيَىٰ لَمْ نَجْعَل لَّهُۥ مِن قَبْلُ سَمِيًّا ﴿٧﴾

---

ای زکریا بیشکه مونږ زیری درکوو تاته په یو داسې هلک چه نوم ئې یحیٰی دی نه مو دی ګرځولی ده ته پخوا له دی نه په دغه نامه (او صفت بل سمنامه).

---

**تفسیر:** یعنی دعا ئې قبوله او د هلک زیری ورته وکړ شو چه د هغه د نامه تجویز هم پخپله حق تعالیٰ پخوا له تولده په (یحیٰی) سره وفرمایله ـ او اسم هم داسې عجیب او په زړه پوری چه له دی نه پخوا پر بل هیچا نه ؤ ایښی شوی ځینو اسلافو دلته د(سمی) معنی په (شبیه) سره اخیستی ده یعنی په دغه شان ـ صفت او ممیزه اخلاقو پخوا بل څوک نه دی تیر شوی ـ ښائی چه دغه مطلب وی چه له زوړ نارینه او له زړی ښځې څخه تر نن ورځې پوری داسې یو هلک نه دی پیدا کړی شوی ـ یا په ځینو خاصو احوالو او صفاتو (لکه د قلب رقت ـ او د بکاء غلبه او نورو) کښې د هغه مثال پخوا له دی نه نه دی تیر شوی. والله اعلم.

---

قَالَ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِى غُلَٰمٌ وَكَانَتِ ٱمْرَأَتِى عَاقِرًا وَقَدْ بَلَغْتُ مِنَ ٱلْكِبَرِ عِتِيًّا ﴿٨﴾

وویل (زکریا) ای ربه ځما څرنګه به وی ما لره هلک او ده ښځه ځما شنده او په تحقیق رسیدلی یم زه له ډیر زوړوالی نه ډیر ضعف ته.

**تفسیر:** د انسانانو دغه دستور او قاعده ده ـ کله چه کوم غیر متوقع خبره یا فوق العاده زیری واوری نو د زیات طمانیت او استلذاذ دپاره د هغه پوښتنه څو څو ځلی کوی او له هری خوا د هغه په پوښتنی او لازمی تپوسونو او ضروری فکرونو کښی بوخت کیږی ـ او د دغه تحقیق او تفحص او تیقن څخه نوی نوی خوند اخلی او راز راز (قسم قسم) حظوظ او لذائذ حاصلوی ـ او ضمناً هغه خبره ښه پخه او مؤکده کوی ـ نو د حضرت زکریا علیه السلام د دغه سؤال منشأ هم هم دا ده ـ حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «کله چه ده دغسی نادره غوښتنه کوله تعجب ورپیدا نشو ـ خو کله چه ئی واوریده چه هغه غوښتنه ئی ومنله شوه نو متعجب شو».

قَالَ كَذٰلِكَ ۚ قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ وَّقَدْ خَلَقْتُكَ مِنْ قَبْلُ وَلَمْ تَكُ شَيْـًٔا ﴿٩﴾

وفرمایل (الله کار) هم داسی دی (لکه چه تا وویل) فرمایلی دی رب ستا چه دا کار پر ما آسان دی او په تحقیق پیدا کړی می ئی ته پخوا له دی نه او نه وی ته هیڅ څیز.

**تفسیر:** دا د تعجب کومه خبره نه ده ـ په هم دغسی حالاتو کښی ته د هلک پلار کیدونکی ئی ـ او دغه د الله تعالیٰ مشیت هرومرو (خامخا) پوره کیدونکی دی.
﴿ قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ ﴾ الآیة ـ فرمایلی دی رب ستا چه دا کار پر ما آسان دی دغه د پرښتی وینا ده.) یعنی که ستا په نزد د ظاهری اسبابو په اعتبار یو شی مشکل او سخت وی نو الله تعالیٰ جل‌جلاله ته هغه او نور ګرد (تول) مشکل کارونه له سره سخت نه دی ـ نو د الله تعالیٰ د عظیمه ؤ قدرتونو په مقابل کښی هر شی آسان دی ـ انسان دی ړومبی خپل وجود ته وګوری چه دی پخپله په یوه زمانه کښی هیڅ یو شی نه ؤ ـ تر دی حده پوری چه له سره د نامه او نښی خاوند هم نه ؤ ـ نو الله تعالیٰ دی له کتمه د عدمه په وجود راوړ نو بیا هم دغه مطلق قادر چه یو محض لاشی څیز څخه شی جوړوی ـ آیا هم هغه لوی ذات د یوه زاړه نارینه او زړی شندی ښځی څخه یو هلک نشی پیدا کولی؟ پر دغه فعل خو په اولی طریقه سره ښائی چه قدرت ولری.

قَالَ رَبِّ اجْعَلْ لِّيْٓ اٰيَةً ۭ قَالَ اٰيَتُكَ اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلٰثَ لَيَالٍ سَوِيًّا ﴿١٠﴾

وویل (زکریا له ډیری خوشالی) ای ربه ځما وګرځوه ماته یوه نښه وفرمایل (الله) چه نښه ستا دا ده چه ته به خبری نشی کولی له خلقو سره دری شپی (او ورځی پرله پسی) په دی حال چه روغ او جوړ به اوسی (بیخی کامل الخلقت بی له ګونګ والی)

**تفسیر:** یعنی سره له صحته او روغوالی هر کله چه دا تا ونشوی کولی چه له خلقو سره خبری اتری وکړی نو هلته وپوهیږه چه حمل قرار نیولی دی. د دی قصی په متعلق مفصل بیان په آل عمران کښی شکلی شوی دی هلته دی په (٤) رکوع ځمونږ د دغه مبارک تفسیر کښی ولوست شی.

فَخَرَجَ عَلٰى قَوْمِهٖ مِنَ الْمِحْرَابِ فَاَوْحٰۤى اِلَيْهِمْ اَنْ سَبِّحُوْا بُكْرَةً وَّعَشِيًّا ⑪

پس ووت (زکریا) پر قوم خپل له خپل محراب (حجری یا معبد) څخه پس اشاره ئی وکړه دوی ته داسی چه تسبیح وایئ تاسی په صبا او بیګا کښی.

**تفسیر:** یعنی کله چه هغه وقت ورسید ـ نو د ده ژبه له خبرو او اترو څخه بنده شوه ـ نو له خپلی حجری څخه د باندی ووت ـ او خلقو ته ئی په اشاره سره وویل ـ چه صبا او بیګا تاسی پاک الله یادوئ! لمونځونه کوئ! په تسبیح او تهلیل کښی مشغول او لګیا اوسئ! دغه وینا یا حسب المعمول به د پخوانیو مواعظو او نصائحو په شان وی ـ یا د الٰهیه د دغه نعمت د احساسه وروسته به ئی غوښتی وی چه نور خلق هم د ده د حال سره شریک شی ـ ځکه چه پر زکریا علیه السلام حکم شوی ؤ لکه چه د آل عمران په سورت کښی راغلی دی چه په دغو دریو ورځو کښی په ښه شان سره الله تعالیٰ یادوه! او خاص د تسبیح لفظ به ئی ښائی د دی لامله (له وجی) اختیار کړی وی چه علی الاکثر د عجیبه ؤ او غریبه ؤ مظاهرو او مناظرو د لیدلو په وقت کښی سړی ﴿سُبْحٰنَ اللهِ﴾ وائی (وفرمایل الله پس له تولد د یحیٰی چه)

يٰيَحْيٰى خُذِ الْكِتٰبَ بِقُوَّةٍ ؕ وَاٰتَيْنٰهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا ۙ⑫

ای یحیٰی واخله دغه کتاب (توریت) په قوت (د زړه سره) او ورکړی ؤ مونږ دغه یحیٰی ته حکم (حکمت او نبوت) په دغه حال کښی چه دی هلک ؤ.

**تفسیر:** یعنی توریت او نوری آسمانی صحیفی چه پر تا یا پر نورو انبیاؤ نازلی کړی شوی دی په ښه مضبوطی او کوښښ سره ئی تینګ کلک ونیسه! او د هغو پر تعلیماتو هم ته په ښه شان

سره عمل وکړه! او هم یې پر نورو خلقو د هغو په تعمیل کښې اقدامات وکړه! حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکي «یعنی د علم الکتاب په ښوولو کښې مصروف شو پر خلقو په ښه زور او قوت سره ـ یعنی پلار ئې زوړ او ځوی ئې ځلمی ؤ او په هم دغه هلکتوب کښې الله تعالیٰ ده ته فهم، پوه، علم، حکمت، صادقه فراست، احکام الکتاب، او د عبودیت آداب، او د خدمت معرفت ورعطاء فرمایلې وه. وائی یو ځلی هلکانو یحيٰی علیه السلام ته وویل «راځه چه لوبی سره وکړو!» یحيٰی علیه السلام وویل «مونږ د دی دپاره نه یو پیدا شوی چه لوبی وکړو!» د ډیرو علماؤ په نزد الله تعالیٰ د خپل عمومی عادت په خلاف یحيٰی علیه السلام ته په هم دغه هلکتوب کښې نبوت هم عطاء فرمایلی ؤ. والله اعلم.

---

وَّحَنَانًا مِّنْ لَّدُنَّا وَزَكٰوةً ؕ وَكَانَ تَقِيًّا ﴿١٣﴾ وَّبَرًّا بِوَالِدَيْهِ وَلَمْ يَكُنْ جَبَّارًا عَصِيًّا ﴿١٤﴾

---

او (بل ورکړی ؤ مونږ یحيٰی لره رحمت مهربانی) حال دا چه مهربان ؤ (پر خلق الله) له نزد خپله او پاکی (له معاصیو) او ؤ (یحيٰی) پرهیزګار او نیکوکار پر مور ؤ پلار خپل او نه ؤ سرکشه نافرمانه (له ربه او پخپل سر).

---

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ یحيٰی علیه السلام ته شوق، ذوق، رحمت، شفقت، رقت، د زړه پوستوالی، محبت، محبوبیت له خپله درباره عنایت فرمایلی ؤ. د ښو اوصافو خاوند، پاک ذات، حسین مخ، زرین خصلت، مبارک، سعید، متقی او پرهیزګار ئې ګرځولی ؤ. په حدیث کښې راغلی دی چه «یحيٰی نه کله ګناه کړی وه او نه ئې د ګناه اراده فرمایلی وه. د الله تعالیٰ له ویری به ئې تل ژړل او د ده پر بارخوګانو (رخسارو) د اوښکو لیاری له ورا ښکاریدی» او له سره متکبر، سرکش په خپل سر نه ؤ. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «یعنی د هیلی (امید) او ارمان ووړکی اکثریه هم داسی وی. لیکن یحيٰی داسی نه ؤ» **الصلوٰة والسلام علیٰ یحيٰی وعلیٰ محمد المصطفی!**

---

وَسَلٰمٌ عَلَيْهِ يَوْمَ وُلِدَ وَيَوْمَ يَمُوْتُ وَيَوْمَ يُبْعَثُ حَيًّا ﴿١٥﴾

---

او سلام دی وی پر دغه (یحيٰی له جانبه د الله) په هغه ورځ چه پیدا کړی شوی دی (له مسه د شیطانه) او په هغه ورځ چه مری به دی (له سکرات الموت او له عذاب القبر) او په هغه ورځ چه پورته کړ شی دی ژوندی **(له عذابه د قیامت)**.

**تفسیر:** کوم سلام چه الله تعالیٰ پر خپل بنده لیږی هغه محض د تشریف او عزت زیاتولو دپاره وی. چه د هغه مطلب او معنی دا ده چه په ده باندی هیڅ انتقاد (نیونه) او مؤاخذه نشته. دلته د ﴿ یَوۡمَ وُلِدَ ﴾ ﴿ وَيَوۡمَ يَمُوتُ ﴾ ﴿ وَيَوۡمَ يُبۡعَثُ حَيًّا ﴾ څخه د اوقاتو او احوالو د تعمیم غرض دی. یعنی د ولادت له وقته نیولی د موت تر وقته پوری او له موته نیولی تر قیامته پوری په هیڅ وقت کښی پر یحییٰ علیه السلام هیڅ قسم د الله تعالیٰ مؤاخذه نشته او تل ترتله له هره آفته مأمون او مصئون دی.

---

وَاذۡكُرۡ فِى الۡكِتٰبِ مَرۡيَمَ ۘ اِذِ انْتَبَذَتۡ مِنۡ اَهۡلِهَا مَكَانًا شَرۡقِيًّا ۙ﴿١٦﴾

---

او یاد کړه په دغه کتاب کښی (قصه د) مریمی کله چه په څنګ شوه (لاړه) له کورنی خپلی هغه ځای ته چه (د کور په) شرقی (ډډه) وه.

---

**تفسیر:** یعنی د حیض د غسل کولو دپاره ـ هم دغه د دی ړومبنی حیض ؤ په دیارلس کلنی یا پنځلس کلنی کښی دا له ډیره شرمه او حیاء د خپلی کورنی له مجمع څخه ګوښه (بیله) شوه ـ او داسی یو عمارت ته لاړه چه د بیت المقدس په مشرقی طرف کښی ؤ. نو ځکه نصاریٰ هم دغه مشرقی خوا د بیت المقدس خپله قبله ګرځولی ده. (او اکثر علماؤ د نصاریٰ قبله مطلق مشرق لیکلی دی).

---

فَاتَّخَذَتۡ مِنۡ دُوۡنِهِمۡ حِجَابًا ۖ فَاَرۡسَلۡنَاۤ
اِلَيۡهَا رُوۡحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا ﴿١٧﴾

---

پس ونیوله له طرفه د دوی پرده (دپاره د غسل د حیض) نو ولیږه مونږ دی ته (پس له غسل او اغوستلو د جامو) روح خپل پس شکل خپل ئی جوړ کړ دی ته د سړی کامل (تام الخلقة د نورانی ځلمی).

---

**تفسیر:** یعنی حضرت جبرئیل علیه السلام د یوه ځنګی (هلک) او نوی ډیر ښکلی پیمخی ځلمی په صورت سره متشکل شوی ورسید، هم هغسی چه د پرښتو عادت دی چه عموماً په ښو منظرو او صورتونو سره متمثل کیږی. او ممکن دی دلته د مریمی صدیقی رضی الله تعالیٰ عنها د انتهائی عفت او طهارت او تقویٰ امتحان اخیستل هم مقصود وی چه داسی زوږور دواعی او محرکات هم د دی د عفاف او تقویٰ جذباتو ته لږ څه حرکت هم ونشو ورکړی.

قَالَتْ إِنِّيٓ أَعُوذُ بِٱلرَّحْمَٰنِ مِنكَ إِن كُنتَ تَقِيًّا ﴿١٨﴾

نو وويل (مريمى دغه ځلمى ته) بيشكه زه پناه غواړم په رحمٰن له تا نه كه ئى ته پرهيزګار سړى (نو له ما څخه په ډډه شه!).

**تفسير:** صديقى مريمى رضى الله تعالىٰ عنها په اوله شيبه كښى داسى وګڼله چه دغه كوم سړى دى ـ په تنهائى كښى يو ناڅاپى د يوه سړى سره د مخامخ كيدلو څخه بالطبع بىبى مريمه سخته ووېريده ـ او د خپلى ساتنى او پت په فكر كښى ولويده. مګر معلوميږى چه د دغى پرښتى پر څيره د تقوىٰ او طهارت د انوارو د ځليدلو څخه فقط هم دغومره ويل كافى وګڼه چه «زه ستا له طرفه رحمٰن ته پناه نيسم كه چيرى ستا په زړه كښى د الله تعالىٰ ويره وى (لكه چه ستا له پاكى او نورانى بشرى څخه هم دغه راڅرګنديږى) نو ته به له ما څخه هيسته درومى ـ او هيڅ به ماته تعرض نه كوى او نه به ماته ګورى».

قَالَ إِنَّمَآ أَنَا۠ رَسُولُ رَبِّكِ لِأَهَبَ لَكِ غُلَٰمًا زَكِيًّا ﴿١٩﴾

وويل (جبرئيل) بيشكه هم دا خبره ده چه زه راليږلى شوى د رب ستا يم دپاره د دى چه وبښم تاته (په امر د رب د تا) يو هلک صالح (پاک له معاصيو).

**تفسير:** يعنى مه ويريږه ـ كه څما په نسبت ستا په زړه كښى كوم خراب خيال پيدا شوى وى هغه لرى كړه! زه انسان نه يم بلكه ستا د هغه رب له جانبه (چه ته په هغه پورى پناه نيسى) ليږلى شوى پرښته يم ـ او د دى دپاره راغلى يم چه د پاک الله له طرفه تاته يو پاک، صاف، مبارک، مسعود او ښه پاک هلک درعطا كړم په ﴿ غُلَٰمًا زَكِيًّا ﴾ كښى دى ته اشاره ده چه هغه به د حسب او نسب او اخلاق او نورو مميزه ؤ صفاتو په اعتبار بيخى پاک او صاف وى.

قَالَتْ أَنَّىٰ يَكُونُ لِى غُلَٰمٌ وَلَمْ يَمْسَسْنِى بَشَرٌ وَلَمْ أَكُ بَغِيًّا ﴿٢٠﴾

وويل (مريمى له ډيره تعجبه) څرنګه به پيدا شى ماته ځوى حال دا چه نه دى رسيدلى ماته هيڅ بشر (نه په نكاح او نه په سفاح) او نه ومه زه هيڅكله بدكاره.

**تفسير:** د صديقى مريمى رضى الله تعالىٰ عنها په زړه كښې الله تعالىٰ دغه يقين ورپيدا كړ چه بيشكه دغه پرښته ده مګر دغه تعجب ورپيدا شو هغه جينئ چه له سره ميړه (خاوند) نه لرى چه په حلاله طريقه د دى سره ئى مساس كړى شوى او بدكارى ئى هم نه ده كړى چه په حرامه طريقه سره به ئى هلک حاصل كړى وى. نو دى ته د دغه رهبانيت په حالت كښې پاكيزه ولد به څرنګه ورپه برخه كيدى شى؟ لكه چه حضرت زكريا عليه السّلام له دى نه په لړ عجيب بشارت باندى سؤال كړى ؤ.

قَالَ كَذٰلِكِ ۚ قَالَ رَبُّكِ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ ۚ

نو وويل (جبرئيل مريمى ته كار) هم داسى دى (لكه چه ته وائى ليكن) فرمايلى دى رب د تا دغه (كار) پر ما باندى آسان دى.

**تفسير:** دا هم هغه جواب دى چه حضرت زكريا عليه السلام ته وركړى شوى ؤ (د هم دغه سورت) (١) ركوع او هم دغه تفسير كښې دى بيا ولوست شى.

وَلِنَجْعَلَهُ آيَةً لِّلنَّاسِ وَرَحْمَةً مِّنَّا ۚ وَكَانَ أَمْرًا مَّقْضِيًّا ﴿٢١﴾

او چه وګرځوو مونږ دغه (هلک لويه) علامه دليل (د كامل قدرت) دپاره د خلقو او رحمت له (طرفه) زمونږ، او دى (پيدا كيدل د ده بى له پلاره) يو كار مقرر كړى شوى (له ازله).

**تفسير:** يعنى دغه تولد هرومرو (خامخا) كيدونكى دى او لا له پخوا څخه دغه امر طى او حكم د واقع كيدلو پرى شوى دى چه له سره پكښې تخلف نه واقع كيږى او څمونږ حكمت د دغى خبرى مقتضى دى چه بى د بشر د مسى محض د يوى جينئ له وجوده هلک پيدا كړو. او هغه ليدونكو او اوريدونكو دپاره څمونږ د عظيمه ؤ قدرتونو څخه يو لوى دليل دى څكه چه ګرد (تول) انسانان د نارينه ؤ او د ښځو له يو ځاى كيدلو څخه پيدا كيږى. آدم عليه السلام مو بى د دغو دواړو څخه پيدا كړى دى. او بى بى حواء رضى الله تعالىٰ عنها مو يواځى د نارينه له وجوده پيدا كړى ده. څلورم صورت ئى هم دغه دى چه د مسيح عليه السلام په وجود كښې ظاهر شو چه بى د نارينه له وجوده يواځى د ښځى له وجوده موجود شى. او په دغه ترتيب سره د پيدايښت څلور واړه صورتونه واقع شول نو د حضرت مسيح عليه السلام وجود د الٰهيه ؤ قدرتونو يو دليل دى او د الله تعالىٰ له طرفه دنيا ته د لوى رحمت سامان دى.

## فَحَمَلَتْهُ فَانْتَبَذَتْ بِهِ مَكَانًا قَصِيًّا ﴿٢٢﴾

پس حامله شوه (مریمه) په دغه (عیسٰی) سره نو په څنګ شوه سره له دغه (عیسٰی) یو ځای لری ته.

**تفسیر:** وائی چه پرښتی وپوکل، نو هغه حامله شوه. **وفي البحر: وذكروا ان جبرئيل عليه السلام نفخ في جيب درعها اوفيه وفي كمها والظاهر ان المسند اليه النفخ هو الله تعالى لقوله فنفخنا** (صفحه ١٨١ مجلد ٦) **كما قال في آدم عليه السلام ونفخت فيه من روحي. والله اعلم**

یعنی څه مهال (وخت) چه د حمل د وضعی وقت ورنژدی شو، نو له ډیره شرمه او حیاء له ګردو (تولو) څخه جلا (جدا) شوه. او کوم لری ځای ته لاړه ښائی چه دغه ځای به هم هغه وی چه ورته «بیت لحم» وائی دغه ځای د «بیت المقدس» څخه اته میله لری دی. ذکره ابن کثیر رحمة الله علیه عن وهب رحمة الله علیه.

## فَأَجَاءَهَا الْمَخَاضُ إِلَىٰ جِذْعِ النَّخْلَةِ قَالَتْ يَا لَيْتَنِي مِتُّ قَبْلَ هَٰذَا وَكُنتُ نَسْيًا مَّنسِيًّا ﴿٢٣﴾

پس راوسته مریمه درد د لنګیدلو (مضطربتاً «پریشانئ په حال») په ویخ د ونی د خرما ته (لپاره د تکیی، کله چه عیسٰی متولد شو) وویل (مریمی له ډیری حیاء) کشکی که مړه وی زه پخوا له دی حاله او وی زه (اوس یو څیز) هیر شوی بیخی له زړونو وتلی.

**تفسیر:** یعنی د لنګوالی د درد له شدته د یوی زړی خرما ونی ویخ ته چه په یوه اوچته ځای کښی ولاړه وه. پناه ئی یووړه (او هلته پته کیناسته) په دغه وقت کښی د درد له تکلیفه او د یواځی والی او بیکسی او ضرورت او راحت د سامان د فقدان او نشتوالی لامله (له وجی) او له تولو څخه زیات داسی مشهوره پاکه صافه عفیفه جینئ له دینی حیثیته د مستقبل بدنامی او رسوائی اندیښنی او تصور څخه سخته ناقراره او پریشانه وه ـ تر دی پوری چه د هم دغه کرب او اضطراب په غلبه کښی یو ناڅاپه داسی یوه جمله یی هم له خولی ووته ﴿ يَا لَيْتَنِي مِتُّ قَبْلَ هَٰذَا وَكُنتُ نَسْيًا مَّنسِيًّا ﴾ کشکی زه له دی شیبی څخه لا له پخوا مړه شوی وی او په دنیا کښی ځما نوم او نښان نه وی پاتی ـ څو په هیره سره هم د چا پر ژبه ځما نوم نه راتلی، د اضطراب

کرب او اندیښنی له شدته هغه زیری او بشارات چه د پرښتی له خوا دی ته ورکړی شوی وو تری بیخی هیر شوی وو.

فَنَادٰىهَا مِنْ تَحْتِهَآ اَلَّا تَحْزَنِیْ قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِیًّا ﴿٢٤﴾ وَهُزِّیْٓ اِلَیْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ تُسٰقِطْ عَلَیْكِ رُطَبًا جَنِیًّا ﴿٢٥﴾

پس غږ وکړ (پرښتی) دغی (مریمی) ته له لاندی طرفه د دی چه مه خپه کیږه په تحقیق ګرځولی ده رب د تا لاندی (له قدمونو) د تا چینه (یا سردار چه عیسٰی دی). او وخوځوه (وخنده) خپل ځان ته بیخ د خرما چه راتوی کاندی پر تا خرما پخی لوندی تازه.

**تفسیر:** دغه ځای چه صدیقه مریمه رضی الله تعالیٰ عنها د خرماؤ د ونی تر ویخ لاندی (پته) ناسته وه ـ لږ څه اوچت ؤ ـ له دی نه د ښکته ځای څخه بیا همغی پرښتی ورغږ کړ چه «مه خپه کیږه او مه پریشانیږه! بلکه د الله تعالیٰ په قدرت هر قسم ظاهری او باطنی اطمینان حاصل کړه ښکته وګوره چه پاک الله خاص تاته څرنګه چینه یا نهر جاری کړی دی ـ چه تری وڅښی ـ او ستا د خوراک دپاره پاس وګوره ـ چه (له دغی وچی کلکی د خرما د ونی څخه چه ته په ویخ کښی ئی پته ناسته ئی) څرنګه پخه تازه ـ پسته خرما سم د لاسه پیدا کړی ده ـ څو ئی وخندی او تری وخوری».

**تنبیه:** ځینو اسلافو (دغه منادی عیسٰی علیه السلام بللی او له تحت څخه د مریمی صدیقی نس ئی مراد کړی او) د «سری» معنی یی په چینه سره کړی ده ـ ظاهر دی چه دغه چینه د خرق العادت په صورت بهولی شوی ده ـ او خرما هم بی‌موسمه په وچی ونی لګیدلی ده د دغو خوارقو د لیدلو د بی‌بی مریمی رضی الله تعالیٰ عنها په زړه کښی تسکین او اطمینان پیدا او د تفریح او خوښی اسباب ورمهیا شول. او لکه چه مفسرین لیکی په دغه حالت کښی دغه شیان بی‌بی مریمی ته نافع او مفید هم ؤ ـ او دی ورته ضرورت هم درلود (لرلو) (نو ځکه د الله په حکم په هم دغه اکل او شرب سره بیرته روغه جوړه شوه.)

فَكُلِیْ وَاشْرَبِیْ وَقَرِّیْ عَیْنًا ۚ

پس خوره (دا خرما) او څښه (دا اوبه) او (رنی) یخی کړه سترګی خپلی (په عیسٰی او خوشحاله شه).

**تفسیر:** یعنی پخه تازه خرما وخوره ! او د دغی مخصوصی چینی د اوبو څخه وڅښه ! او خپل پاک او مطهر ووړکی ته ګوره ! او خپلی سترګی دی پری یخی او رڼی کړه ! او د وروسته غم مخوره ! چه الله تعالیٰ د ګردو (تولو) مشکلاتو لری کوونکی دی.

فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ الْبَشَرِ أَحَدًا فَقُولِي إِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمَٰنِ صَوْمًا فَلَنْ أُكَلِّمَ الْيَوْمَ إِنْسِيًّا ﴿٢٦﴾

پس که ولید تا له خلقو څخه یو څوک (چه د عیسیٰ د تولد پوښتنه ئی در څخه کوله) نو ووایه بیشکه زه چه یم نذر کړی می ده پر ځان رحمٰن ته روژه (له کلامه) پس.له سره به خبری ونه کړم زه نن ورځ له هیڅ یوه انسان سره !

**تفسیر:** یعنی که له خلقو څخه کوم سړی له تا څخه (د عیسیٰ علیه السلام د ځیږیدلو په نسبت څه) پوښتنه وکړه نو ته د لاسونو او د سترګو او نورو په اشارو سره هغوی داسی وپوهوه چه نن ورځ ما محضاً لله له ویلو څخه خپله خوله بنده کړی ده او له تاسی سره نن هیڅ خبری اتری نشم کولی ـ د دوی په دین کښی دغسی نیت درست ؤ ـ او دوی به د نه ویلو روژی هم نیولی خو ځمونږ د محمدیانو په شریعت کښی داسی د کلام روژه نیول درست نه دی او دا ووایه بیشکه زه چه یم نذر می منلی دی مطلب دا دی چه د نذری روژی نیت وکړه او بیا داسی ووایه. او ﴿إِنْسِيًّا﴾ قید ئی ښائی ځکه لګولی وی چه (تسبیح او تهلیل او د الله شکر خو کوم) له پرښتو سره خو غږیږم ( ﴿فَإِمَّا تَرَيِنَّ﴾ په اصل کښی «ان ما ترئیین» دی چه د«**ان ما**» نون شرطیه مدغم شوی دی په «**ما**» زائده کښی «**ترئیین**» د مخاطبی مونثی صیغه ده له بابه د «**فتح**» نه چه «ع او «**ل** تری حذف او فتحه د «**ع**» لاړه «**ر**» ته او «**ن**» د تاکید پری داخل شو او نون اعرابی تری محذوف شو او «**ی**» د ضمیر مکسوره شوه له جهته د التقاء د ساکنین).

فَأَتَتْ بِهِ قَوْمَهَا تَحْمِلُهُ قَالُوا يَا مَرْيَمُ لَقَدْ جِئْتِ شَيْئًا فَرِيًّا ﴿٢٧﴾

پس راغله (مریمه) سره له دغه (عیسیٰ) قوم خپل ته چه اخیستی ئی وه هغه (عیسیٰ په غیږ کښی کله چه قوم ئی ولیده) نو وویل (یهودانو) ای مریمی په تحقیق راوړی دی (او کړی دی) تا یو څیز عجیبه مخالف له عادته.

**تفسیر:** یعنی عیسیٰ علیه السلام ئی پخپلی غیږ کښی ونیو ـ او د خپل قوم په مخ کښی راغله ـ نو ګرد (تول) خلق د دغه وضعیت د لیدلو څخه هک پک ـ حیران او متحیر پاتی شول ـ او

گردو (تولو) په داسی ویناؤ خوله وپرانستله، ای مریمی تا بلاء وکړله ـ او داسی غته خبره دی پیدا کره ـ نو ژر شه ووایه چه دغه ساختگی شی دی له کومه راوړ له دی نه به لوی دروغ او خلاف العادت خبره څه وی چه یوه پیغله بی میړه جینئ (چه تر نن پوری به لا حائضه هم نوی شوی) داسی دعوی وکړی چه د ما کره ځوی شوی دی (بی له پلاره).

يَٰٓأُخۡتَ هَٰرُونَ مَا كَانَ أَبُوكِ ٱمۡرَأَ سَوۡءٖ وَمَا كَانَتۡ أُمُّكِ بَغِيّٗا ﴿٢٨﴾

ای خوری د هارون! نه ؤ پلار د تا سړی د بدی او نه وه مور ستا بدعمله (نو دا ته ولی داسی شوی؟)

**تفسیر:** یعنی پری بدگمانه شول او داسی ئی ورته وویل چه ستا مور او پلار او کورنی او کهول له قدیم الایامه تر اوسه پوری په عفت او عصمت او طهارت معروف دی نو په تا کښی دغه بد خصلت له کومه شو؟ د نیکانو له اولاده ؤ څخه د بدی صدور د حیرت او تعجب وړ (لایق) دی.

**تنبیه:** بی‌بی مریمی رضی الله تعالیٰ عنها ته ئی «اخت هارون» ځکه وویل چه د حضرت موسیٰ د ورور هارون علیه السلام له نسله وه گواکی له «اخت هارون» څخه «اخت قوم هارون» مقصود دی ـ لکه چه ﴿وَٱذۡكُرۡ أَخَا عَادٍ﴾ کښی هود علیه السلام ته د «عاد» ورور ویلی دی حال دا چه «عاد» د دی قوم د اصلی مورث نوم ؤ او ممکن دی د «اخت هارون» څخه د هغه ظاهری معنی ئی واخیستی شی لکه چه له ځینو صحیحه ؤ احادیثو څخه ظاهریږی چه د بی‌بی مریمی رضی الله تعالیٰ عنها دغه ورور یو صالح سړی ؤ ـ نو د کلام حاصل داسی شو چه «ای مریمی ستا پلار متقی او مور دی عابده او ورور دی صالح او پاس نسب دی عین «هارون علیه السلام» ته رسیږی ـ نو سره له دومره مفاخرو او محاسنو له تا څخه داسی بد کار ولی ښکاره شو.

فَأَشَارَتۡ إِلَيۡهِۖ

نو اشاره وکړه (مریمی) هغه ته (چه له دغه عیسیٰ سره وغږیږئ!)

**تفسیر:** یعنی صدیقی مریمی رضی الله تعالیٰ عنها پخپل لاس سره د خپل وړوکی په لوری (چه تی ئی په خوله کښی ؤ او د خلقو دغه گردی (تولی) خبری ئی په ځیر سره اوریدی) اشاره وکړه چه تاسی پخپله له ده نه پوښتنه وکړئ.

قَالُواْ كَيۡفَ نُكَلِّمُ مَن كَانَ فِي ٱلۡمَهۡدِ صَبِيّٗا ﴿٢٩﴾

نو وویل (خلقو) څرنګه خبری وکړو مونږ له هغه چا سره چه دی هغه په مهد (ځانګو یا غیږ) کښې وړوکی (تی رودونکی).

**تفسیر:** یعنی سره له دغسی شرمناکه حرکته دی ته لا وګوره چه پر مونږ ملندی هم وهی او مسخری راپوری کوی چه دغه خپل جواب د دغه تی رودونکی وړوکی ماشوم څخه واوریږ! ښه نو د یوه داسی نوی ځیږیدلی هلک سره به مونږ څرنګه سؤال او جواب وکړی شو؟

**تنبیه:** ﴿ مَنْ كَانَ فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا ﴾ کښې د ﴿ كَانَ ﴾ لفظ پر دی دلالت نه کوی چه عیسٰی علیه السلام د خپل دغه تکلم په وقت کښې «صبی» نه ؤ پاتی په قرآن عظیم کښې داسی مضامین دیر استعمال شوی دی مثلاً په ﴿ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴾ یا ﴿ وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَىٰ إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً ﴾ یا ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِمَن كَانَ لَهُ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ ﴾ او نورو کښې «﴿ كَانَ ﴾ استعمال د داسی مضمون دپاره شوی دی چه د هغه سلسله د ماضی زمانی د سلسلی د پری کیدلو سره نه وی منقطع شوی - او دلته د ﴿ مَنْ كَانَ فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا ﴾ په تعبیر کښې دغه نکته شته چه ویونکو دغه د تکلم نفی د یوی ضابطی او عمومی قاعدی په ډول (طریقه) وړاندی کړی وه - یعنی نه صرف عیسٰی علیه السلام بلکه د هر هغه هلک (وړوکی) چه دغسی نوی ځیږیدلی وی - او په غیږ کښې پروت تی رودنکی وی عادتاً کلام محال دی.

﴿ قَالَ إِنِّي عَبْدُ اللَّهِ آتَانِيَ الْكِتَابَ وَجَعَلَنِي نَبِيًّا ۝٣٠ ﴾

وویل (عیسٰی) چه بیشکه زه بنده د الله یم؛ راکړی ئی دی ماته کتاب او ګرځولی یم زه الله نبی.

**تفسیر:** یعنی د قوم په منځ کښې هم دغه خبری او اتری کیدی چه الله تعالیٰ مسیح علیه السلام په خبرو راوست او د عیسٰی علیه السلام هغه وینا چه په دغه وقت کښې ئی وکړه - د دغو د هغه تردد او د غلطو او فاسدو خیالاتو تردید ئی وکړ - چه اوس یا وروسته له دی نه د ده په نسبت قائم کیدونکی ؤ. «زه بنده د الله یم» یعنی نه پخپله الله تعالیٰ او نه د الله تعالیٰ ځوی یم - لکه چه د نصاریٰ ؤ عقیده ده - لکه چه د هم دی عقیدی د تردید دپاره رومبی د مسیح علیه السلام د ولادت او نورو حالاتو مفصلاً بیان وفرمایه.

«او ګرځولی ئی یم نبی» یعنی مفتری او کاذب نه یم لکه چه یهودان ګمان کوی.

**تنبیه:** د آل عمران او مائده په سورتونو کښې د حضرت مسیح علیه السلام د تکلم فی المهد په متعلق کلام کړی شوی دی - هغه دی هلته ولوست شی - د صحیح بخاری شریف په حدیث نبی کریم صلی الله علیه وسلم د هغو دریو هلکانو په نسبت چه د تکلم فی المهد ذکر فرمایلی دی له هغوی ځنی یو هم دغه حضرت مسیح علیه السلام بن مریم دی - مګر نن، پرون خلق د قرآن او

حديث په خلاف د حضرت مسيح د تكلم فى المهد څخه انكار كوى حال دا چه د دوى په لاس كښې د نصرانيانو د عمياء تقليد څخه ماسواء بل هيڅ يو دليل نشته.

وَّجَعَلَنِيْ مُبٰرَكًا اَيْنَ مَا كُنْتُ وَاَوْصٰنِيْ بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ مَا دُمْتُ حَيًّا ﴿٣١﴾

او گرځولی یم زه (الله) برکت ناک په هر ځای کښې چه اوسیږم او تاکیدی حکم ئی فرمایلی دی ماته په لمانځه سره او په زکٰوة سره تر څو چه زه یم ژوندی.

**تفسير:** یعنی تر څو چه ژوندی یم ـ د هر وقت او د هر ځای سره مناسب د هر قسم صلٰوة او زكٰوة حکم چه شوی وی، د هغو د شرطونو او حقوقو د رعایت سره ئی برابر تل ادا کوم. لکه چه په بل ځای کښې د مؤمنینو په نسبت فرمایلی دی. ﴿ اَلَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ دَآئِمُوْنَ ﴾ د دی مطلب داسی نه دی چه په هر آن او هر وقت کښې تل لمونځ به کوی بلکه مراد ئی دا دی چه په هر وقت او په هر قسم چه د لمانځه حکم شوی وی تل په مداومت سره د هغه حکم تعمیل کوی او د هغه برکات او انوار تل پر دوی محیط او چاپیر وی. که کوم سړی داسی ووائی «څو چه مونږ ژوندی یو پر لمانځه ـ زکٰوة ـ روژه ـ حج او نور مامور یو» نو آیا د هغه مطلب به داسی اخیست کیږی چه هر یو مسلمان مامور دی چه تل هر ساعت لمونځ وکړی ـ او هر ساعت زکٰوة ورکړی ـ (که د نصاب مالک وی که نه وی) هر وقت روژه ونیسی ـ هر وقت حج وکړی ـ د حضرت مسیح علیه السلام په متعلق هم د «مادمت حیا» مطلب هم داسی واخیست شی. په یاد ئی ولرئ چه د «صلٰوة» لفظ یواځی له هم دغه اصطلاحی لمانځه سره نه دی مخصوص. لوی قرآن له ملائکو او انسانانو څخه تیر شوی د گرد (تول) جهان په طرف هم د «صلٰوة» نسبت کړی دی ﴿ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يُسَبِّحُ لَهٗ مَنْ فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَالطَّيْرُ صٰٓفّٰتٍ كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهٗ وَتَسْبِيْحَهٗ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِمَا يَفْعَلُوْنَ ﴾ ء (١٨ جزء د «النور» ٤١ آية ٦ رکوع) او دا ئی هم راښودلی دی چه د هر شی د تسبیح او د صلٰوة په حال باندی یواځی پخپله پاک الله پوهیږی چه د کوم یوه صلٰوة او تسبیح په څه ډول (طريقه) سره دی؟ هم داسی د «زكٰوة» معنی هم اصلاً طهارت ـ نمو ـ برکت او مدح ده، چه له دغو ځنی د هر یوه معنی استعمال په قرآن او حدیث کښې په خپلو خپلو مواقعو کښې شوی دی. په هم دغه رکوع کښې د حضرت مسیح په نسبت د ﴿ غُلٰمًا زَكِيًّا ﴾ لفظ تیر شو ـ چه له «زكٰوة» څخه مشتق دی او یحیٰی علیه السلام ته ئی وفرمایل ﴿ وَحَنَانًا مِّنْ لَّدُنَّا وَزَكٰوةً ﴾ د «الكهف» په سورت کښې دی ﴿ خَيْرًا مِّنْهُ زَكٰوةً وَّاَقْرَبَ رُحْمًا ﴾ دلته هم د «زكٰوة» معنی هم داسی عمومی اخیستی شی ـ او ممکن دی له

﴿ وَأَوْصَٰنِي بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱلزَّكَوٰةِ ﴾ څخه «**اوصاني بان آمر بالصلوٰة والزكوٰة**» مراد وي لکه چه د اسمٰعيل عليه السلام په نسبت فرمائلي دي ﴿ وَكَانَ يَأْمُرُ أَهْلَهُۥ بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱلزَّكَوٰةِ ﴾ بيا د «اوصاني» لفظ د خپل لغوي مدلول په اعتبار د دي خبري مقتضي نه دي چه د هم هغه «ايصاء» له وقته پري تعميل شروع شي. او هم ډير ممکن دي چه له «مادمت حيا» څخه د هم دغي ځمکي ژوندانه مراد واخيست شي ـ لکه چه د «ترمذي» په يو حديث کښي راغلي دي چه الله جل‌جلاله د جابر رضي الله تعالیٰ عنه پلار پس له شهادته ژوندي کړ ـ او وئي فرمايه چه «له ما څخه څه څيز وغواړه»! هغه عرض وکړ «يا الله ماته بيا داسي ژوندون را په برخه کړه ـ چه په هغه کښي بيا ستا په لياره کښي ووژلي شم!» له دغه ژوندون څخه يقيناً د ځمکي ژوندون مراد دی. که نه شهيدانو ته نفس الحيات خو پخپله قرآن او په هم دغه حديث کښي بالتصريح موجود دی ـ او د حيات مطلب په «لوکان موسٰی او عيسٰی حيين ـ الخ کښي هم دغه حيات وګڼئ که بالفرض د دي حديث والي ثابت شي. «بالفرض» مو ځکه وويل چه د ده اسناد د احاديثو په کتابونو کښي هيچيري نه دي موندلي شوي.

# وَبَرًّۢا بِوَٰلِدَتِي وَلَمْ يَجْعَلْنِي جَبَّارًا شَقِيًّا ﴿٣٢﴾

او (ګرځولي يم زه الله) نيکي کوونکي له مور خپلي سره او نه ئي يم ګرځولي زه سرکښه بدبخته.

**تفسير:** هر کله چه هيڅوک ئي پلار نه ؤ ـ نو يوائځي د مور نوم ئي واخيست.دغه ګردي (تولي) جملي چه د ماضي په صيغو سره راوړي شوي بيشکه د هغوي معاني په ماضي سره اخيستلي کيږي ليکن داسي چه متيقن الوقوع مستقبل ئي ماضي فرض کړي دي لکه چه په ﴿ أَتَىٰٓ أَمْرُ ٱللَّهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوهُ ﴾ کښي هم داسي مسيح عليه السلام په خپل هلکتوب کښي د ماضي د صيغو په استعمالولو کښي تنبيه ورکړه چه د دغو ګردو (تولو) شيانو کيدل په مستقبل کښي داسي يقيني او قطعي دي لکه چه واقع شوي دي د حضرت مسيح عليه السلام د دغه خارق العادت خبرو، اترو ـ او له هغو اوصافو او خصائلو چه بيان کړل شول ـ په ډير بلاغت سره د هغه ناپاک تهمت ترديد وشو چه د ده پر ماجده والده لګولي شوي ؤ ـ اول خو د داسي ووړکي وينا ـ او داسي جامع او مؤثر کلام طبعاً د دښمنانو چپ کوونکي ؤ ـ بيا په داسي يو ووړکي کښي چه دومره سوچه خصال وموندل شي ـ نو ښکاره ده چه هغه (العياذ بالله) څرنګه ولدالزناء کيدي شي لکه پخپله د دوي له دي اقرار څخه هم ظاهريږي ﴿ وَمَا كَانَتْ أُمُّكِ بَغِيًّا ﴾ چه دوي فروع هم د اصوله سره سم غوښتل.

# وَٱلسَّلَٰمُ عَلَيَّ يَوْمَ وُلِدتُّ وَيَوْمَ أَمُوتُ وَيَوْمَ أُبْعَثُ حَيًّا ﴿٣٣﴾

او (وويل عيسٰى) سلام دى پر ما په هغه ورځ چه ځيږولى شوى يم (له مسه د شيطانه او نورو بديو (او خرافاتو) او په هغه ورځ چه مرم به (له عذابه د نزعى او د قبره) او په هغه ورځ چه پورته به کړى شم ژوندى (له عذابه د قيامت

**تفسير:** د دى جملى سره سمه بله هم دغسى جمله پخوا له دى نه د حضرت يحيٰى عليه السلام په ذکر کښى مذکوره شوه ـ د دغو دواړو په منځ کښى هم دغومره فرق شته چه هلته پخپله د الله تعالىٰ له لورى کلام ؤ او دلته د حضرت مسيح عليه السلام له ژبى هم هغه خبرى ويلى شوى دى ـ او هم د «سلام» او د «السلام» فرق د لحاظ قابل دى.

(او فرمائى الله د هغه صفت چه مو اوس وکړ)

ذٰلِكَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ ۚ قَوْلَ الْحَقِّ الَّذِي فِيهِ يَمْتَرُونَ ﴿٣٤﴾

دغه (موصوف) عيسٰى ځوى د مريمى دى (فرمايلى دى الله په شان د عيسٰى کښى) خبره حقه رښتيا هغه چه په دى کښى سره جګړى کوى (خلق).

**تفسير:** يعنى د مسيح عليه السلام شان او صفت هم دغه دى چه پاس بيان شو په يوه رښتيا او ښکاره خبره کښى خلقو چتى(فضول) جګړى او مناقشى پيدا کړى دى. او راز راز (قسم قسم) اختلافات ئى پکښى درولى دى چه يو ترى خداى جوړوى ـ بل ئى د الله تعالىٰ ځوى ګڼى ـ بل يى کذاب او مفترى بولى ـ بل د ده پر نسب او نورو طعنى وهى ـ رښتيا خبره خو هم دغه ده چه ښکاره کړى شوه چه مسيح عليه السلام خداى نه دى بلکه د الله تعالىٰ يو مقرب بنده دى ـ کاذب او مفترى نه دى ـ بلکه يو رښتين نبى دى. د ده حسب او نسب ګرد (تول) سره پاک دى ـ الله تعالىٰ ده ته «**کلمة الله**» فرمايلى دى. او ممکن دى د ﴿ قَوْلَ الْحَقِّ ﴾ معنى هم دغه «**کلمة الله**» وى.

مَا كَانَ لِلَّهِ أَنْ يَتَّخِذَ مِنْ وَلَدٍ ۖ سُبْحَانَهُ ۚ إِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ ﴿٣٥﴾

نه ښائيږى الله ته دا چه ونيسى ولد (هيڅوک) پاکى ده ده ته (له نيولو د

ولد) هر کله چه حکم وکړی دی د یوه کار پس بیشکه هم دا خبره ده چه
وائی هغه ته (موجود) شه پس هغه موجود شي.

**تفسیر:** هغه ذات ته چه د ده د یوه (کن ـ شه!) څخه هر شي موجودیږی د ځوی او لمسی څه ضرورت لاحق دی؟ آیا (العیاذ بالله) اولاد به د ضعف په وقت کښې ورسره کومک او مرسته (مدد) کوی؟ یا د مشکلاتو په وقت کښې به ئی لاس سپکوی؟ یا وروسته له هغه به د ده نوم ژوندی ساتی؟ او که داسی کومه شبهه درپیدا شوی وی چه عموماً انسانان له مور او پلاره پیدا کیږی نو د حضرت مسیح علیه السلام پلار څوک دی؟ نو د هغه جواب هم دغه د ﴿ كُن فَيَكُونُ ﴾ په جمله کښې راغی. یعنی داسی مطلق قادر ته دغه څه اشکال لری چه یو هلک بی له پلاره پیدا کړی؟ که عیسایان الله تعالیٰ د مسیح پلار او صدیقه مریمه د ده مور ګڼی نو العیاذ بالله د میره (خاوند) او د ښځی د نورو تعلقاتو اقرار به هم کوی؟ سره له دی چه پلار ئی ودروی نو د تخلیق طریقه خو به هم هغسی نه وی چه بالعموم په والدینو کښې دی نو بیا په بی پلاره پیدا کولو کښې به څه اشکال وی؟

وَإِنَّ اللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٣٦﴾ فَاخْتَلَفَ الْأَحْزَابُ مِن بَيْنِهِمْ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ كَفَرُوا مِن مَّشْهَدِ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿٣٧﴾

او (وویل عیسیٰ) بیشکه الله رب ځما دی او رب ستاسی دی پس عبادت کوئ تاسی د الله؛ هم دغه لیاره سمه صافه برابره. نو بیا اختلاف وکړ ډلو (د نصاریٰ په باب د عیسیٰ کښې) له منځ د دغو (خلقو) نو خرابی ده دپاره د هغو کسانو چه کافران شوی دی له حاضریدو د هغی ورځی ډیری لوئی (د قیامت نه).

**تفسیر:** دغه د چا خبره ده؟ د ځینو په نزد دا د حضرت مسیح علیه السلام مقوله ده ـ ګواکی پخوا له دی نه د حضرت مسیح هم هغه خبری چه له ﴿ قَالَ إِنِّي عَبْدُ اللَّهِ ﴾ الآیة ـ څخه نقل کړی شوی دی دا د هغه تکمله شوه په منځ کښې د مخاطبینو د تنبیه دپاره له ﴿ ذَٰلِكَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ ﴾ څخه د الله تعالیٰ کلام ؤ. ځما په نزد بهتر دا دی چه دغه د ﴿ وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ مَرْيَمَ ﴾ الآیة ـ سره ولګولی شي ـ یعنی (ای محمده صلی الله علیه وسلم!) په کتاب کښې د مریمی او د مسیح علیه السلام د حال هغه مذکور چه شوی دی ـ وائی وروه! او ووایه چه ځما او ستاسی رب الله دی. یوائځی د هم دغه عبادت وکړئ! ځوی او لمسی ورته مه دروئ! الله تعالیٰ د توحید داسی سمه صافه لیاره درښوولی ده چه هیڅ لوړه، ژوره (نشیب و فراز) کوږوالی نه لری ـ او

ګردو (تولو) انبياو د هم هغه په طرف ليار ښوونه کړې ده - ليکن خلقو ډيرې فرقې جوړې کړي دي او بيلې بيلې لياري ئې ايستلې دي - نو هغه کسان چه له توحيد څخه انکار کوي نو هغوی ته د ډيرې هولناکې ورځې (قيامت) له تباهي څخه خبردار کيدل په کار دي چه خامخا راتلونکې دی.

اَسۡمِعۡ بِهِمۡ وَاَبۡصِرۡۙ يَوۡمَ يَاۡتُوۡنَنَا لٰكِنِ الظّٰلِمُوۡنَ الۡيَوۡمَ فِىۡ ضَلٰلٍ مُّبِيۡنٍ ﴿٣٨﴾

څه ډير ښه اوريدونکي به وي دوی او څه ډير ښه ليدونکي (به وي دوی په هغې ورځې کښې چه رابه شي دوی مونږ ته ليکن ظالمان نن ورځ په ګمراهي ښکاره کښې دي.

**تفسير:** يعني نن چه اوريدل او ليدل مفيد دي دوی بيخي کانه او ړانده شوي دي - او د قيامت په ورځ چه ليدل او آوريدل له سره فائده نه رسوي د دوی سترګي او غوږونه خلاصيږي او په دغې ورځې کښې به داسې خبرې اوري چه زړونه ئې ترې ړيق چوي او داسې مناظر او ننداري به ګوري چه د هغو د ليدلو څخه به د دوی څيرې تکې توري الوځي **(نعوذ بالله منه!)**

وَاَنۡذِرۡهُمۡ يَوۡمَ الۡحَسۡرَةِ اِذۡ قُضِىَ الۡاَمۡرُ

او وويروه ته دوی له ورځې د حسرت (او ارمانه) کله چه فيصله کړې شي کار (د حساب او کتاب)

**تفسير:** کفارو ته به د افسوس او ارمان کولو ډيرې مواقع وردمخه کيږي او آخرې موقع به هم هغه وي کله چه مرګ د يوې ګډې پشان راوستې شي او د جنت او د دوزخ په منځ کښې د ګردو (تولو) په مخ کښې به داسې حال کښې چه ګرد (تول) به ورته ګوري ذبح کاوه شي - او داسې يو غږ به کيږي چه «جنتي دي په جنت کښې او دوزخي دي په دوزخ کښې د تل دپاره پاتي وي، وروسته له دې نه به مرګ هيچا ته نه راځي» نو په دغه وقت کښې کافران بالکل نا اميده کيږي او د حسرت لاسونه به سره مښي او ګوتي به چيچي.

څه په کار ده اوس ژړا او انګولا ▪ لوښي مات او غوړي توی شول په بيديا

وَهُمۡ فِىۡ غَفۡلَةٍ وَّهُمۡ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ ﴿٣٩﴾

حال دا چه دوی (په دنیوی) غفلت کښې دی او دوی ایمان نه راوړی

**تفسیر:** یعنی په دغه وقت کښې دوی د داسی ورځې په راتګ باور نه کوی او د غفلت په نشو کښې مخمور پراته دی او په ډیره درنه هیره کښې لویدلی دی خو څه مهال (وخت) چه له قیامت د لویو مصائبو سره مخامخ کیږی ـ نو دلته وائی کشکی هلته مو سترګی خلاصې کړی وی او پخپلو نفعو او زیانونو پوهیدلی وی مګر د دغی ورځې حسرت او افسوس دوی ته هیڅ په درد نه خوری ځکه

لګیا وی تل په لوبو له نن ورځ وی بیغم ▪ الآن قد ندمت وما ینفع الندم

إِنَّا نَحۡنُ نَرِثُ الۡأَرۡضَ وَمَنۡ عَلَيۡهَا وَإِلَيۡنَا يُرۡجَعُونَ ﴿٤٠﴾

بیشکه مونږ چه یو هم دا مونږ وارث کیږو د ځمکی او د هغه چا چه پر دغه ځمکی دی او خاص مونږ ته به راوستی شی دوی (دپاره د جزا)

**تفسیر:** یعنی د هیچا مال او ملک به باقی نه پاتی کیږی، هر شی به مستقیماً د خپل حقیقی مالک په طرف رجوع کوی الله تعالیٰ به پخپله بالذات علی الاطلاق حاکم او متصرف وی، په هر څیز کښې په هر قسم سره چه اراده وفرمائی سم له خپله حکمته سره پکښې تصرف کوی ـ د دنیا د هغو سامانونو چه تاسی ئی په غفلت کښې غورځولی یئ وارث او مالک یواځې هم هغه وحده لاشریک له الله تعالیٰ پاتی کیږی. د مال او د ملک ګرد (تول) طویل او عریض دعوی کوونکی تول د فناء او زوال په کنده کښې غورځاوه شی.

وَاذۡكُرۡ فِي الۡكِتٰبِ إِبۡرٰهِيمَ ۚ

او یاد کړه (ای محمده ! امت خپل ته) په کتاب (قرآن) کښې (قصه د) ابراهیم

**تفسیر:** په تیره رکوع کښې د حضرت مسیح علیه السلام او د صدیقی مریمی رضی الله تعالیٰ عنها قصه بیان او د نصرانیانو تردید وکړی شو چه دوی یو انسان د رحمٰن په ځای دراوه، په دغه رکوع کښې د مکی معظمی د مشرکینو د شرملو دپاره د حضرت ابراهیم علیه السلام قصه اوروله شی ـ چه دی عین تر خپل پلار سره څرنګه او د شرک پر خلاف کلک ودرید او له شرکه او بت پرستی څخه ئی منع کوله؟ او ګردو (تولو) ته ئی وویل چه که له شرکه لاس واخلئ ـ او

د وحدت پر سمه لیاره روان شئ! کله چه خپل تبلیغ او هدایت ئی بی اثره ولید نو وطن، اقارب او ګرد (تول) هیواد والا ئی هم پریښودل، او محضاً لله ئی هجرت اختیار کړ. د مکی مکرمی مشرکانو داسی دعوی کوله چه دوی د ابراهیم علیه السلام له اولادی او د هم هغه پر دین قائم دی نو دا ئی هغوی ته وروښوول چه ستاسی د پلار ابراهیم علیه السلام رویه د بتانو په نسبت څه ډول (طریقه) وه؟ که د آباؤ او اجدادو تقلید کوئ، نو د داسی یو پلار تقلید وکړئ! او له مشرکو پلرونو او نیکه ګانو نه هم هغسی مرور او بیزاره شئ ـ لکه چه ابراهیم علیه السلام تری بیزاره شوی ؤ.

## اِنَّهٗ كَانَ صِدِّيْقًا نَّبِيًّا ﴿٤١﴾

بیشکه دغه (ابراهیم) ؤ صدیق (ډیر رښتینی) نبی

**تفسیر:** د «صدیق» معنی دا ده چه ډیر زیات رښتیا ویونکی چه پر خپلو خبرو د عمل کولو له پلوه بیخی رښتین ثابت او د خپل قول او عمل توافق په رښتیا سره ګردو (تولو) ته ښیی. یا خو «صدیق» هغه رښتین او پاک طینت سړی ته وائی چه د ده په زړه کښی د رښتیا قبلولو دپاره نهایت اعلیٰ اکمل استعداد موجود وی. هر هغه خبره چه د الله تعالیٰ له جانبه ور ورسیږی هغه بلا توقفه د ده په زړه کښی ځای ونیسی ـ او بیخی د شک او تردد ځای او ګنجائش پکښی پاتی نشی ـ ابراهیم علیه السلام په هری یوی معنی سره «صدیق» ؤ او کله چه د «صدیقیت» دپاره «نبوت» نه دی لازم نو ځکه ئی وروسته د«صدیقاً» سره «نبیا» هم وفرمایل او پر نبوت ئی هم تصریح وکړه ـ له هم دی ځایه معلوم شو چه د کذبات ثلاثه حدیث او په «**نحن احق بالشک من ابراهیم**» او نورو روایاتو کښی د کذب او شک هغه معنی نه ده مراده چه د کلام له سطحی څخه مفهومیږی.

## اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ يٰۤاَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِيْ عَنْكَ شَيْـًٔا ﴿٤٢﴾

کله چه وویل (ابراهیم) پلار خپل ته ای پلاره څه دپاره عبادت کوی ته د هغه څیز چه نه اوری او نه وینی او نه دفع کولی شی له تا نه هیڅ څیز.

**تفسیر:** یعنی هغه چه ګوری او آوری او په مشکلاتو کښی هم پکار راځی ـ مګر واجب الوجود نه وی د هغه عبادت هم نه دی جائز څه ځای د دی چه د یوی بی ځانه تیږی (ګتی) یا بی روحه بت چه نه لیدی شی او نه اوریدی شی او نه څموږ څه په کار راځی او پخپله څموږ په لاسونو جوړ شوی او توږلی شوی دی هغه خپل معبود ودروو ـ نو دغه عمل د هیڅ یو عاقل او پوه

سرې کار له سره نشي کيدی.

يَٰٓأَبَتِ إِنِّي قَدْ جَآءَنِي مِنَ ٱلْعِلْمِ مَا لَمْ يَأْتِكَ فَٱتَّبِعْنِيٓ أَهْدِكَ صِرَٰطًا سَوِيًّا ﴿٤٣﴾

ای پلاره ځما بیشکه زه چه یم په تحقیق راغلی دی ماته له علمه هغه قدر چه نه دی راغلی تاته نو متابعت وکړه ځما چه وبه ښیم تاته لیاره سمه برابره.

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ ماته د توحید او د معاد او د نورو صحیح علم راکړی او د شریعت له حقائقو څخه ئی واقف کړی یم که ته ځما متابعت وکړی نو زه به دی پر داسی سمی صافی لیاری بیایم چه د الله تعالیٰ تر رضاء پوری رسیږی پرته (علاوه) له دی نه نوری ګردی (تولی) لیاری داسی خرابی او کږی دی چه پر هغو باندی له تللو څخه هیڅوک بری او نجات نشي موندلی.

يَٰٓأَبَتِ لَا تَعْبُدِ ٱلشَّيْطَٰنَ ۖ إِنَّ ٱلشَّيْطَٰنَ كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ عَصِيًّا ﴿٤٤﴾

ای پلاره ځما مه کوه عبادت د شیطان (په ارتکاب د منهیاتو)؛ بیشکه شیطان دی له رحمٰن څخه ډیر نافرمانه (سرکشه).

**تفسیر:** د بتانو عبادت په شیطانی اغواء او لمسون کیږی ـ او شیطان د دغه حرکت له لیدلو څخه ډیر زیات خوشالیږی نو په دی لحاظ ګواکی د بتانو عبادت د شیطان عبادت دی او د شیطان عبادت ګواکی د رحمٰن څخه انتهائی نافرمانی ده. ښائی د﴿ عَصِيًّا ﴾ په لفظ سره دی لوری ته هم توجه ورکړی وی چه د شیطان د ړومبنی نافرمانی اظهار په هغه وقت کښی شوی ده چه ستاسی د پلار آدم علیه السلام په مقابل کښی د تعظیمی سجدی حکم ورکړی شوی ؤ لهٰذا د آدم علیه السلام اولادی ته د ډیر شرم او ننګ ځای دی چه د رحمٰن څخه مخ واړوی او له شیطان سره خپله یارانه ونښلوی ـ یا هغه قدیمی ازلی دښمن خپل معبود وګرځوی.

يَٰٓأَبَتِ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يَمَسَّكَ عَذَابٌ مِّنَ ٱلرَّحْمَٰنِ فَتَكُونَ لِلشَّيْطَٰنِ وَلِيًّا ﴿٤٥﴾

ای پلاره ځما بیشکه زه چه یم ویریږم له دی نه چه وبه رسیږی تاته عذاب له رحمٰن څخه (لامله «له وجی» د متابعت د شیطان) پس شی به ته شیطان ته دوست (ملګری په دوزخ کښی).

**تفسیر:** یعنی د رحمٰن د عظیمه ؤ رحمتونو اقتضاء دا ده چه پر ګردو (تولو) بندګانو ئی شفقت او مهربانی وی لیکن ستا د بدو اعمالو له شامته ویره ده چه هم دغه حلیم رحیم او کریم الله تعالیٰ هم په قهر نشی او پر تاسی کوم سخت آفت نازل نه کری چه په هغه کښی د اخته کیدلو لامله (له وجی) تل تر تله د شیطان رفیق او ملګری شئ یعنی د کفر او شرک له مزاولته په مستقبل کښی د ایمان او توبی توفیق درپه برخه نشی ـ او د اولیاء الشیاطین په ډله کښی شامل شی ـ او په دائمی عذاب کښی وغورځاوه شی عموماً مفسرینو دغه معنی اخیستی ده لیکن حضرت شاه صاحب لیکی. ـ «یعنی د کفر له وباله که کوم آفت راشی نو له شیطانه به مدد غواړی یعنی له بتانو څخه ـ اکثر خلق په هم دغسی وقت کښی شرک کوی» والله اعلم.

قَالَ أَرَاغِبٌ أَنتَ عَنْ آلِهَتِي يَا إِبْرَاهِيمُ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ لَأَرْجُمَنَّكَ وَاهْجُرْنِي مَلِيًّا ﴿٤٦﴾

وویل (آزر پلار د ابراهیم) آیا مخ ګرځونکی ئی ته له (عبادت د) معبودانو ځما ای ابراهیمه، که منع نشوی ته (له دی کاره) نو خامخا وبه ولم هرومرو (خامخا) تا په تیږو (ګټو) (یا بدو خبرو) سره او ترک می کړه (او لری شه له مانه) ډیر مدت (چه ضرر می در ونه رسیږی).

**تفسیر:** د حضرت ابراهیم علیه السلام پلار (آزر) د خپل ځوی د دغه تقریر له آوریدلو څخه وروسته ده ته وویل «معلومیږی چه ته ځمونږ له معبودانو څخه بد عقیده ئی بس دی دا خپل وعظ او نصیحت او بد اعتقاد پریږده ـ که نه ته به بله کومه سخته خبره له ما څخه آوری بلکه ځما په لاس به سنګساریږی که خپل خیر غواړی نو له ما څخه تر یوه مدت (مادام العمر) لری شه! چه زه نه غواړم چه ستا رنګ وګورم ـ او پخوا له دی نه چه زه پر تا لاس پورته کړم ته له دی ځایه لری شه!»

قَالَ سَلَامٌ عَلَيْكَ

وويل (ابراهيم) سلام (د متارکی د خبرو) دی وی په تا باندی.

**تفسیر:** دغه د رخصت یا د متارکت سلام دی لکه چه ځمونږ په محاوراتو هم په داسی مواقعو کښی داسی ویلی کیږی چه که هغه خبره یا کار داسی وشی نو ځما درته سلام دی لکه چه په (٢٠) جزء د القصص په (٥٥) آیت (٦) رکوع کښی هم داسی یو آیت لولو ﴿ وَإِذَا سَمِعُوا اللَّغْوَ أَعْرَضُوا عَنْهُ وَقَالُوا لَنَا أَعْمَالُنَا وَلَكُمْ أَعْمَالُكُمْ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ لَا نَبْتَغِي الْجَاهِلِينَ ﴾ حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «معلوم شو که په دینی خبره مور او پلار خپه شی او خپل ځوی له کوره وباسی او ځوی په خوږه ژبه او مؤدبه وینا تری بیلتون اختیار کړی نو دغسی هلک نه عاق کیږی».

سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّي ۖ إِنَّهُ كَانَ بِي حَفِيًّا ﴿٤٧﴾

ژر به مغفرت غواړم تاته له رب خپل (څو مسلمان شی)؛ بیشکه چه الله دی پر ما ډیر مهربان.

**تفسیر:** امید شته چه پاک الله پخپله مهربانی به ځما د پلار ګناه معافوی حضرت ابراهیم علیه السلام د استغفار وعده ابتداءً فرمایلی وه لکه چه د استغفار په وقت کښی څه مهال (وخت) چه د الله تعالیٰ مرضی ورمعلومه شوه نو استغفار ئی موقوف کړ ـ دغه بحث د توبی (براءة) په سورت په ١١٣ آیت (١٤) رکوع کښی د دی آیت په فائده کښی تیر شوی دی ﴿ مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ ﴾ هلته دی د دی تفسیر کښی ولوست شی.

وَأَعْتَزِلُكُمْ وَمَا تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَأَدْعُو رَبِّي عَسَىٰ أَلَّا أَكُونَ بِدُعَاءِ رَبِّي شَقِيًّا ﴿٤٨﴾

او په څنګ به شم له تاسی (تولو بت پرستانو) او له هغه څه چه تاسی ئی عبادت کوئ غیر له الله او عبادت به کوم (یوائی) د رب خپل امید لرم د دی چه نشم زه په عبادت د رب خپل کښی بدبخته (نا امیده لکه چه تاسی شوی یئ).

**تفسیر:** کله چه ځما د پند او نصیحت هیڅ اثر پر تاسی نه لویږی بلکه بالعکس ځما ویرولو او دارولو ته هغه هم کیږی نو اوس زه پخپله ستاسی په دغه کلی کښی نه پاتی کیږم او تاسی سره

له ستاسی باطلو معبودانو پرېږدم ـ او له دی وطنه هجرت کوم ـ څو له تاسو څخه ګوښی (بېل) کینم ـ او د زړه په اطمینان سره د الله واحد عبادت وکړی شم ـ د الله تعالیٰ له فضله او کرمه کامل امید شته چه زه د ده بندګی وکړی شم او پکښی محروم او ناکامه پاتی نشم ـ کله چه په غربت او بیکسی کښی هم د ده عبادت وکړم ـ او د الله تعالیٰ لوی دربار ته دعاء وکړم ضرور ئی مستجابوی ـ ځما الله سمیع او بصیر او علیم دی او ستاسی د تېرو (ګټو) او لړګیو باطل معبودان داسی دی چه هومره ناری ورته ووهئ او ورته وژاړئ خو بیا هم ستاسی دعاوی نه آوری او په درد مو نه خوری.

فَلَمَّا اعْتَزَلَهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ وَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ ۖ وَكُلًّا جَعَلْنَا نَبِيًّا ﴿٤٩﴾

کله چه په څنګ شو (ابراهیم) له دوی نه په هجرت سره او له هغه څیزه (چه دوی ئی) عبادت کاوه غیر له الله نه نو وبښل مونږ ده ته (ځوی) اسحٰق او (لمسی) یعقوب؛ او هر یو (له دوی دواړو) ګرځولی ؤ مونږ نبی.

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ په لیاره کښی ئی هجرت وکړ او له خپلو اقاربو او خپلوانو څخه لری ولوید الله تعالیٰ ده ته له وطنه زیات شیان ورعطاء کړل چه د غریب الوطنی وحشت تری لری شی ـ او هلته انس او سکون حاصل کړی. ښائی دلته ئی د حضرت اسمٰعیل علیه السلام ذکر ځکه نه وی فرمایلی چه هغه له ده سره نه ؤ ـ بلکه دی یی په وړوکتوب له خپله ځانه بیل کړی ؤ ـ او هم د هغه تذکره مستقلا راتلونکی ده.

**تنبیه:** حضرت اسحٰق علیه السلام د حضرت ابراهیم علیه السلام ځوی او حضرت یعقوب د حضرت اسحٰق علیه السلام ځوی دی ـ چه له هم دغی سلسلی څخه د بنی اسرائیلو سلسله پیدا کیږی او د هم دغو په اولاده کښی په زرهاؤ انبیاء پیدا شوی دی.

وَوَهَبْنَا لَهُم مِّن رَّحْمَتِنَا وَجَعَلْنَا لَهُمْ لِسَانَ صِدْقٍ عَلِيًّا ﴿٥٠﴾ ع

او بښلی ؤ مونږ دوی (دری واړو) ته له رحمته خپل (نبوت او حکمت) او ګرځولی وه مونږ دوی ته (یعنی ابراهیم او ځامنو ته ئی) ژبه د صدق ریښتینی (یعنی د نیکی) ډیره پورته مشهوره.

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ له خپل خاص رحمت څخه خلیل الله علیه السلام او د ده کورنی ته د

نبوت او حکمت لویه برخه عنایت کړه ـ او په دنیا کښې ئې د ده خبره پورته کړه ـ او د تل دپاره ئې د ده د خیر ذکر جاری کړ لکه چه په ګردو (ټولو) مذاهبو او مللو کښې د ده تعظیم او توصیف کیږي او مونږ محمدی امت پخپلو لمونځونو کښې تل داسې لولو. **اللهم صل علیٰ محمد وعلیٰ آل محمد کما صلیت علیٰ ابراهیم وعلیٰ آل ابراهیم انک حمید مجید** ـ فی الحقیقت دغه د حضرت ابراهیم علیه السلام د دغې دعاء د مقبولیت ثمره ده چه فرمائلي ئې ﴿ وَاجْعَلْ لِّي لِسَانَ صِدْقٍ فِي الْآخِرِينَ ﴾

## وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ مُوسٰٓى ۚ

او یاد کړه (ای محمده! خپل امت ته) په کتاب (قرآن) کښې (قصه د) موسیٰ

**تفسیر:** یعنې په قرآن کریم کښې چه اوس سم د لاسه د حضرت موسیٰ علیه السلام بیان کیږي د هغه ذکر د خلقو په مخ کښې وکړه! ځکه چه دی د اسحٰق علیه السلام او د یعقوب علیه السلام له نسله د اسرائیلي سلسلې یو لوی اولوالعزم رسول الله او اعظم مشرع تیر شوی دی او هم هغسې چه د حضرت یحییٰ او عیسیٰ علیهما السلام په تذکره کښې په خصوصیت سره د عیسائیانو اصلاح او د ابراهیم علیه السلام له تذکرې څخه د مکی معظمې د مشرکانو تنبیه مقصود ده هم داسې د حضرت موسیٰ او حضرت هارون علیهما السلام له تذکرې څخه ښائي یهودانو ته د دې خبرې ښوونه مقصود ده ـ چه وګورئ قرآن عظیم په څه وسعت او لوی زړه سره د دوی د لوی مقتداء د واقعي کمالاتو او محاسنو اعلان کوي ـ نو یهودانو ته هم ښائي چه دوی هم سم د خپل جلیل القدر نبی د ښکارۀ او صریحو پخوا ویلو سره د دغه اسمٰعیلي نبی (محمد صلی الله علیه وسلم) د رسالت او نبوت اقرار او اعتراف په خلاص زړه او اخلاص او محبت سره وکړی! ښائي د هم دې لامله (له وجې) وروسته د حضرت موسیٰ علیه السلام له ذکره د کلام عنان د حضرت اسمٰعیل علیه السلام په لوری ګرځولی شوی دی.

## اِنَّهٗ كَانَ مُخْلَصًا وَّكَانَ رَسُوْلًا نَّبِيًّا ﴿٥١﴾

بیشکه چه دی ؤ خالص کړی شوی (د الله له طرفه) او ؤ دی رسول نبی.

**تفسیر:** هر هغه انسان ته چه د الله تعالیٰ له طرفه وحی راشي هغه «نبی» دی، په انبیاؤ کښې هغه چا ته چه خصوصي امتیاز حاصل وی یعنې د مکذبانو په مقابل کښې د بیل یو مستقل امت په طرف مبعوث شوی وی ـ یا نوی کتاب او مستقل شریعت ولری نو هغه ته «رسول نبی» یا «نبی رسول» ویلې کیږي په شرعیاتو کښې جزئي تصرفات لکه د کوم عام تخصیص یا د مطلق

تقیید او نور په رسولانو پوری څه تخصیص نه لری، عام انبیاء هم هغه کولی شی باقی پر غیر الانبیاء باندی د رسول او مرسل اطلاق لکه چه د قرآن په بعض مواضعو کښی موندل کیږی د دغه مصطلح معنی په اعتبار نه دی او هلته نور حیثیات معتبر دی. والله اعلم.

وَنَادَيْنَٰهُ مِن جَانِبِ ٱلطُّورِ ٱلْأَيْمَنِ وَقَرَّبْنَٰهُ نَجِيًّا ﴿٥٢﴾

او نداء کړی وه مونږ دغه (موسٰی) ته له جانبه د(غره د) طور چه (د موسٰی) ښی طرف ته ؤ او رانژدی کړی ؤ مونږ دی حال دا چه مونږ له ده سره د راز خبری کولی.

**تفسیر:** یعنی څه مهال (وخت) چه موسٰی علیه السلام د اور ځلیدل محسوس کړل نو د «طور» د غره په هغه مبارکه او میمون جانب کښی ورسید چه د موسٰی علیه السلام د ښی لاس پر طرف کښی واقع ؤ نو الله تعالیٰ نداء او غږ پری وکړ ـ او د همکلامی شرف ئی وروبانبه تفصیل ئی د «طٰهٰ» په سورت کښی راځی ـ وائی چه موسٰی علیه السلام په دغه وقت کښی له هر جهته او د هر ویښته له بیخه د پاک الله کلام اوریده چه ئی د پرښتی له واسطی کیده او په روحانی دول (طریقه) سره دومره قرب او علو ورحاصل شوی ؤ چه د هغو غیبی اقلامو غږونه یی هم آوریده چه پری تورات ښکلی کیده وحی ئی څکه «پته خبره» وفرمایله چه په دغه وقت کښی کوم بل انسان په دغه استماع کښی ورسره شریک نه ؤ ـ اگر که وروسته له هغه نور خلق هم پری خبر کړل شول . (والله اعلم).

وَوَهَبْنَا لَهُۥ مِن رَّحْمَتِنَآ أَخَاهُ هَٰرُونَ نَبِيًّا ﴿٥٣﴾

او ښښلی ؤ مونږ دغه (موسٰی) ته له رحمت خپله ورور د ده هارون حال دا چه نبی ؤ (څما او وزیر ؤ د موسٰی).

**تفسیر:** یعنی هارون علیه السلام د حضرت موسٰی علیه السلام په کار کښی مددگار شو ـ څکه چه دی ئی پخپله غوښتی ؤ ـ لکه چه په (۲۰) جزء د «القصص» په (۳٤) آیت (٤) رکوع کښی راغلی دی ـ ﴿ وَأَخِى هَٰرُونُ هُوَ أَفْصَحُ مِنِّى لِسَانًا فَأَرْسِلْهُ مَعِىَ رِدْءًا يُصَدِّقُنِىٓ إِنِّىٓ أَخَافُ أَن يُكَذِّبُونِ ﴾
او په (۱٦) جزء د «طٰهٰ» د سورت (۲۹-۳۰) آیت (۲) رکوع کښی مذکور دی
﴿ وَٱجْعَل لِّى وَزِيرًا مِّنْ أَهْلِى هَٰرُونَ أَخِى ﴾ الآیة ـ نو الله تعالیٰ د موسٰی علیه السلام دغه دعاء او غوښتنه ومنله او هارون علیه السلام ئی نبی وگرځاوه او د ده د اعانت او تقویت (وزارت) دپاره ئی ورمقرر کړ هسی خو په عمر کښی هارون علیه السلام له موسٰی علیه السلام څخه څلور

کاله مشر ؤ. وائی چه هیڅ‌چا په دنیا کښی د خپل ورور دپاره دومره لوی شفاعت نه دی کړی لکه چه موسیٰ علیه السلام د هارون علیه السلام دپاره کړی دی.

وَاذۡكُرۡ فِى الۡكِتٰبِ اِسۡمٰعِيۡلَ اِنَّهٗ كَانَ صَادِقَ الۡوَعۡدِ وَكَانَ رَسُوۡلًا نَّبِيًّا ۞٥٤

او یاد کړه (ای محمده! خپل امت ته) په کتاب (قرآن) کښی (قصه د) اسمٰعیل بیشکه چه دی ؤ صادق (رښتنی) په وعده کښی او ؤ رسول نبی.

**تفسیر:** له دی نه د حضرت اسمٰعیل علیه السلام فضیلت پر حضرت اسحٰق علیه السلام ظاهرېږی ځکه چه هغه یی یواځی په نبی سره یاد کړ - او اسمٰعیل علیه السلام ته یی رسول او نبی وفرمایه په صحیح مسلم کښی حدیث دی «**ان الله اصطفیٰ من ولد ابراهیم اسمٰعیل** - د ابراهیم له اولادی څخه الله تعالیٰ اسمٰعیل علیه السلام غوره کړی دی» حضرت اسمٰعیل علیه السلام د حجازی اعرابو اعلیٰ مورث او ځمونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم له اجدادو څخه دی - اسمٰعیل علیه السلام ته ئی ابراهیمی شریعت ورکړی ؤ - د ده صادق الوعدتوب مشهور ؤ - له الله یا د الله تعالیٰ د بندګانو سره به ئی کومه وعده چه کوله هغه به ئی هرومرو (خامخا) پوره کوله - ده له یوه سړی سره وعده کړی وه تر هغه پوری چه ته راځی - زه هم دلته درته ګورم - وائی چه هغه سړی تر یوه کاله پوری رانغی - او ده هملته ورته کاته - له نبی کریم څخه هم منقول دی - چه پخوا له بعثته دوی ته عبد الله بن ابی الحمساء ویلی ؤ چه تاسی هم دلته واوسئ زه هم دا اوس درځم - دوی تر دریو ورځو پوری هملته وو - کله چه هغه بیرته راغلی نو ده ورته وفرمائل - چه «تا ماته تکلیف ورساوه. زه له دریو ورځو رائیسی په هم دی ځای کښی درته منتظر وم» د حضرت اسمٰعیل علیه السلام د وعدی انتهائی صداقت په هغه وقت کښی ظاهر شو - کله چه خپل پلار ابراهیم علیه السلام ته ئی وویل ﴿ يٰٓاَبَتِ افۡعَلۡ مَا تُؤۡمَرُ ۖ سَتَجِدُنِىۡۤ اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ الصّٰبِرِيۡنَ ﴾ جزء (٢٣) (د الصافات (١٠٢) آیت (٣) رکوع او هم هغسی دغه خپله خبره ئی په تصدیق سره هم ورسوله.

وَكَانَ يَاۡمُرُ اَهۡلَهٗ بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ

او ؤ دی چه حکم به ئی کاوه اهل (قوم یا امت) خپل ته په لمانځه سره او په زکوٰة سره.

**تفسیر:** ځکه چه کورنی خلق د قریبوالی لامله (له وجی) له ګردو (تولو) څخه ړومبی د هدایت مستحق دی او له هم دوی څخه نوری سلسلی هم چلیږی نو ځکه د(طٰهٰ) په (٨) رکوع کښی

ویلی شوی دی ﴿ وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَوٰةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا ﴾ او د تحريم په (١) رکوع کښی راغلی دی ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا ﴾ او پخپله نبی کریم ته هم د الشعراء په (١١) رکوع کښی هم داسی ارشاد شوی دی چه ﴿ وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ ﴾ ځینی وائی چه له (اهل) ځنی د دوی ګرد (تول) قوم مراد دی. لکه چه د عبد الله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه په مصحف کښی د «اهله» په ځای «قومه» ؤ. والله اعلم.

وَكَانَ عِندَ رَبِّهِ مَرْضِيًّا ﴿٥٥﴾

او ؤ دی په نزد د رب خپل پسندیده (غوره کړی شوی).

**تفسير:** يعنی د نورو هدايت ئی كول ـ او په خپله د حميده ؤ اقوالو او افعالو خاوند او مستقيم الحال او مرضی الخصال ؤ.

وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِدْرِيسَ ۚ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَّبِيًّا ﴿٥٦﴾

او یاد کړه (ای محمده! خپل امت ته) په کتاب (قرآن) کښی (قصه د ادریس بیشکه چه دی ؤ صدیق (دیر رښتینی) نبی.

**تفسير:** راجح دا ده چه ادريس عليه السلام د حضرت آدم عليه السلام او نوح عليه السلام په منځنی زمانه کښی تیر شوی دی ـ وائی چه په دنیا کښی د نجومو او د حسابو علم ـ او په قلم سره لیکل کالی (کپړی) ګندل ـ تلل (وزن) او پیمانه کول (کیل) او د هغو آلاتو او تیرو (ګتو) ترتيبول او وسلی په کار اچول اول ځلی د ده له خوا په کار اچولی شوی دی ـ والله اعلم. د معراج په شپه کښی د نبی کریم ملاقات له ده سره په څلورم آسمان کښی شوی دی. (د ده نوم اخنوخ او لمړی مرسل دی).

وَرَفَعْنَاهُ مَكَانًا عَلِيًّا ﴿٥٧﴾

او پورته کړی دی مونږ ده لره (ژوندی) ځای دیر اوچت (جنت) ته.

**تفسير:** يعنی د قرب او عرفان دير اوچت مقام او لوی مرتبی ته ئی رسولی دی ـ ځینی وائی چه ادریس علیه السلام هم د مسیح علیه السلام په شان ژوندی آسمان ته خیژولی شوی دی او هلته تر نن پوری ژوندی دی. ځینی وائی وروسته له دی نه چه پر آسمان خیژولی شوی دی هلته ئی قبض

الروح کړی شوی دی ـ د ادریس علیه السلام په نسبت ځینو مفسرینو دیر اسرآئیلیات نقل کړی دی ـ چه پر هغو ګردو (تولو) «ابن کثیر رحمة الله علیه» تنقیدات کړی دی. (والله اعلم).

أُولَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مِن ذُرِّيَّةِ ءَادَمَ وَمِمَّنۡ حَمَلۡنَا مَعَ نُوحٖ وَمِن ذُرِّيَّةِ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡرَٰٓءِيلَ

دغه (مخکښې مذکور شوی انبیاء له زکریا او عیسٰی نه تر ادریس پورې) هغه کسان دی چه انعام کړی دی الله پر دوی له انبیاؤ څخه له اولادې د آدم (لکه شیث، ادریس) او له اولادې د هغو کسانو چه بار کړی دی مونږ سره له نوح په بیړی کښې لکه ابراهیم لوط صالح) او له اولادې د ابراهیم (لکه اسماعیل اسحاق) او له اولادې د اسرائیل یعقوب (لکه موسٰی عیسٰی).

**تفسیر:** یعنی د هغو انبیاؤ ذکر چه د دی سورت له ابتداء څخه تر دی ځایه پورې شوی دی ـ پر هم دغو قسمو خلقو الله تعالیٰ د انعاماتو باران کړی دی. دغه ګرد (تول) د آدم علیه السلام له اولادې څخه دی او ماسواء له ادریس علیه السلام باقی ګرد (تول) د هغو کسانو له اولادې څخه هم دی چه له نوح علیه السلام سره په بیړی کښې مونږ هغوی سواره کړی وو ـ او ځینی د ابراهیم علیه السلام له ذریې څخه دی لکه اسحٰق علیه السلام، یعقوب علیه السلام، اسمٰعیل علیه السلام محمد علیه الصلوٰة والسلام ـ او ځینی د اسرآئیل (یعقوب) علیه السلام له نسله دی لکه موسٰی ـ هارون ـ زکریا ـ یحیٰی علیهم السلام.

وَمِمَّنۡ هَدَيۡنَا وَٱجۡتَبَيۡنَآۚ إِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُ ٱلرَّحۡمَٰنِ خَرُّواْۤ سُجَّدٗاۤ وَبُكِيّٗا۩ ﴿٥٨﴾

او له هغه چا نه چه لیاره مو ښوولی وه (دوی ته) او غوره کړی مو ؤ (دوی نبوت او کرامت ته)؛ هر کله چه وبه لوستلی شو پر دوی باندی آیاتونه د رحمٰن نو لویدل به (پر ځمکه) سجده کوونکی او ژړیدونکی (له خوفه د الله نه).

**تفسیر:** («بکی» په اصل کښې بکوی دی جمع د باکی پر وزن د «فاعل» لکه سجود چه جمع

د ساجد ده واو او يی سره جمع شول اول تری ساكن وه نو واو ئی يی شو او په يی كښی مدغم شو او ماقبل ئی مكسور شو. دپاره د متابعت نو «بكی» شو.) يعنی د حق په طرف ئی هدايت وكړ ـ او د نبوت او رسالت د منصب دپاره ئی غوره او پسند كړل سره له دی چه د دوی مقام اوچت دی ـ او د معراج كمال ته هم رسيدلی دی ـ خو د عبوديت او بندگی پشان كښی كامل دی كله چه د الله تعالیٰ كلام آوری ـ د هغه له مضامينو څخه زيات متأثر كيږی او په نهايتی عاجزی ـ خشوع ـ خضوع سره په سجده لويږی ـ او د پاک الله په ياد ژاړی. نو ځكه د علماؤ اجماع ده چه پر دغه آيت باندی دی هرومرو (خامخا) سجده وكړه شی، څو د هغه مقربينو د طرز عمل په تقليد او يادونه يو شانته مشابهت له هغوی سره حاصل شی ـ په رواياتو كښی راغلی دی چه حضرت عمر الفاروق رضی الله تعالیٰ عنه د «مريم» سورت ولوست ـ او سجده ئی هم وكړه ـ وروسته ئی وفرمايل «**هذا السجود فاين البكی؟** ـ دغه خو سجده شوه؛ ژړا ئی چيری ده؟» ځينو مفسرينو له (آيات الرحمٰن) څخه آيات السجود ـ او له (سجدا) نه سجود التلاوة مراد كړی ده ـ مگر ظاهر خو هغه دی ـ چه پخوا مو د هغه تقرير وكړ ـ په حديث كښی راغلی دی چه «د لوی قرآن تلاوت وكړئ! ـ او وژاړئ! كه مو ژړا درنشی نو اقلا د ژړا وضعيت (صورت) خو ځان ته غوره كړئ!»

---

فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٌ أَضَاعُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَٱتَّبَعُواْ ٱلشَّهَوَٰتِ فَسَوۡفَ يَلۡقَوۡنَ غَيًّا ﴿٥٩﴾

---

پس پيدا شول پس له دوی نه (داسی بد) خليفگان چه ضائع كړ دوی لمونځ او متابعت وكړ دوی د شهواتو (نفسانی خواهشونو) پس ژر به يو ځای شی دوی له بد عاقبت خپل سره.

---

**تفسير:** هغه تير شوی بيان د پخوانيو حال ؤ ـ د ورستنيو حال دا دی چه د دنيا په خوندونو او لذتونو او په نفسانی خواهشونو كښی ډوب تللی دی ـ او د الله تعالیٰ له عبادته غافل شوی دی ـ لمونځ چه اهم العبادات دی ضائع كوی ئی ځينی خو د هغه د فرضيت څخه منكر شوی دی. ځينی سره له دی چه په فرضيت ئی قائل دی خو نه ئی كوی ـ او كه يی كوی خو د جماعت، وقت او د نورو شروطو ـ حقوقو او آدابو رعايت يی نه كوی ـ له دوی ځنی به هر يو بيل بيل درجه په درجه د خپلی گمراهی نتيجه وگوری چه څنگه د دوی د خساری او نقصان سبب گرځی؟ او څرنگه په ډير سخت عذاب كښی اخته كيږی؟ حتیٰ چه ځينی د دوی د جهنم په هغی ډيری بدی وادی كښی غورځول كيږی چه د هغی اسم هم (غی) دی.

إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَأُولَٰئِكَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُونَ شَيْئًا ﴿٦٠﴾

مګر هغه چا چه توبه ئی وویستله او ایمان ئی راوړ او عمل ئی وکړ نیک پس دغه کسان به ننوځی په جنت کښی او ظلم به پر دوی ونه کړی شی هیڅ قدر (په تقلیل د ثواب یا تزئید د عقاب).

**تفسیر:** د توبی دروازه خو د داسی مجرمانو دپاره هم نه ده بنده چه سخت ګنهګار وی او د زړه په صدق سره توبه وباسی او د ایمان او صالح عمل لپاره غوره کوی او خپل اعمال او افعال اصلاح کوی او سم درست ئی ساتی ـ نو د جنت دروازی دوی ته پرانستلی دی ـ وروسته له توبی څخه هر هغه ښه عمل چه وکړی د پخوانیو بدو اعمالو له سببه په دغو کښی هیڅ قسم کمی او تقلیل نه واقع کیږی ـ او نه ئی کوم قسم حق ضائع کیږی ـ په حدیث کښی راغلی دی «**التائب من الذنب کمن لا ذنب له** ـ له ګناه څخه توبه کوونکی داسی دی لکه چه له سره ئی ګناه نه وی کړی» «**اللّٰهم تب علینا انک انت التواب الرحیم**»

جَنَّاتِ عَدْنٍ الَّتِي وَعَدَ الرَّحْمَٰنُ عِبَادَهُ بِالْغَيْبِ ۚ إِنَّهُ كَانَ وَعْدُهُ مَأْتِيًّا ﴿٦١﴾

جنتونه د تل اوسیدلو هغو ته چه وعده ئی کړی ده رحمٰن له بندګانو خپلو سره په غیب باندی (چه نه دی لیدلی دا جنتونه) بیشکه شان دا دی چه ده وعده د ده (چه جنت دی) خامخا راځی به ورته (اهل ئی).

**تفسیر:** کله چه بنده بی د شیانو د لیدلو څخه محض د انبیاؤ علیهم السلام په وینا سره ایمان راوړی ـ او بی له لیدلو د الله تعالیٰ عبادت کوی ـ نو پاک الله هم له دوی سره د جنت د هسی اعلیٰ نعمتونو د ورکولو وعده فرمایلی ده چه د هغو د خوندونو او مزو او ښه والی نظیر او مثال د ده په خوب او خاطر کښی هم نه دی تیر شوی ـ او هغه هرومرو (خامخا) وررسیدونکی او پوره کیدونکی دی ـ ځکه چه د الله تعالیٰ ګرد (تول) مواعید حتمی الوقوع قاطع او لا یتغیر دی.

لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا إِلَّا سَلَامًا ۖ

نه به اوری دغه (جنتیان) په دغه (جنت) کښې چتي(فضول) خبره مګر (اوری به) سلام؛

**تفسیر:** یعنی په جنت کښې به لغو ـ بې باکی ـ بابیزه او بیکاره خبری او شور ماشور او نور بیهوده شیان له سره نه وی ـ هو! د پرښتو او د مؤمنینو له طرفه به د(السلام علیکم ـ وعلیکم السلام) غږونه پورته کیږی.

وَلَهُمْ رِزْقُهُمْ فِيهَا بُكْرَةً وَّعَشِيًّا ﴿٦٢﴾

او دی دوی ته رزق (روزی) د دوی په دغه (جنت) کښې صبا او بیګا.

**تفسیر:** له صبا او بیګا څخه د جنت صباء او بیګا مراد دی ـ هلته به د دنیا په شان طلوع او غروب (لمر خاته، لویده) نه وی ـ چه په هغه سره شپې او ورځې صبا او بیګا مقرر کړ شی ـ بلکه د خاصو اقسامو انوارو په توارد او تنوع وی چه د هغو په واسطه د صبا او بیګا تعیین او تحدید کیدی شی. حسب العادت او معمول د جنت د صبا او بیګا روزی به وررسیږی ـ او د یوی شیبې له مخې به هم د لوږی تکلیف نه احساس کیږی ـ دغه روزی به څه وی؟ د ده کیفیت الله تعالیٰ ته ډیر ښه معلوم دی په حدیث کښې راغلی دی «**یسبحون الله بکرة وعشیا** ـ جنتیان به صبا او بیګا د حق تعالیٰ جل‌جلاله تسبیح وائی» ګواکی د جسمانی غذا سره دوی ته روحانی غذا هم وررسیږی.

تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي نُورِثُ مِنْ عِبَادِنَا مَنْ كَانَ تَقِيًّا ﴿٦٣﴾

دغه (چه ذکر مو وکړ) جنت دی هغه چه په میراث به ورکوو مونږ له بندګانو خپلو هغه چا ته چه وی پرهیزګار.

**تفسیر:** یعنی د آدم علیه السلام میراث چه ړومبی جنت هغه ته رسیدلی ؤ. او ښائی د میراث لفظ ئې ځکه اختیار فرمایلی وی چه د تملیک په اقسامو کښې دغه تملیک له ګردو (ټولو) څخه اتم او احکم قسم دی چه په دی کښې نه د فسخې احتمال شته ـ او نه د بیرته اخیستلو ـ او نه د ابطال ـ او نه د اقالی امکان پکښې پیدا کیدی شی.

وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمْرِ رَبِّكَ لَهُ مَا بَيْنَ أَيْدِينَا وَمَا خَلْفَنَا

وَمَا بَيْنَ ذَٰلِكَ ۚ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا ﴿٦٤﴾

او (وویل جبرئیل) نه نازلیږو (مونږ ملائکی) مګر په حکم د رب ستا خاص الله ته دی (علم) پر هر هغه ځیز چه په مخ ځمونږ کښې دی (له راتلونکو کارونو او زمانو) او هر هغه ځیز چه وروسته ځمونږ دی (له تیرو کارونو او زمانو) او هر هغه ځیز چه په منځ د دغه (ماضی او مستقبل او کارونو) کښې دی او نه دی رب ستا هیروونکی (د تا).

**تفسیر:** یو ځلی جبریل علیه السلام تر څو ورځو پوری رانغی ـ رسول الله صلی الله علیه وسلم منقبض ؤ ـ کفار په داسی ویناؤ خولی وپرانستلی چه له محمد صلی الله علیه وسلم څخه د ده رب خفه دی. له دغو طعنو او پیغورو څخه رسول الله صلی الله علیه وسلم لا متأثر او زړه تنګی شو ـ بالاخر جبریل علیه السلام تشریف راوړ ـ رسول الله صلی الله علیه وسلم له ده نه د دغومره ورځو د نه راتللو د سبب پوښتنه وفرمایله ـ او په حدیث کښې راغلی دی ـ چه دوی وفرمایل «**مایمنعک ان تزورنا اکثر مما تزورنا** ـ هومره چه ته راځی ـ له هغه څخه زیات ولی نه راځی؟» الله تعالیٰ لا پخوا جبریل علیه السلام ته داسی ښوولی وه چه ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم په جواب کښې داسی ووایه ﴿ وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمْرِ رَبِّكَ ۖ ﴾ الآیة ـ دا د الله تعالیٰ کلام شو ـ د جبریل له طرفه ـ لکه چه په ﴿ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ﴾ کښې مونږ مسلمانانو ته د دعاء کولو طریقه ښوولی ده ـ جواب حاصل داسی شو چه مونږ خالص بندګان یو ـ بی د الله تعالیٰ له حکمه خپله بنه هم نشو خوځولی ـ ځمونږ صعود او هبوط ګرد (تول) د الله تعالیٰ په اذن او حکم پوری ترلی دی ـ هر وقت چه پاک الله پخپل کامله قدرت او حکمت سره مناسب وګنی مونږ ته د ښکته کیدلو حکم راکوی ځکه چه د هری زمانی (ماضی ـ مستقبل ـ حال) او د هر ځای (آسمان ځمکه او د دوی تر منځ) علم یواځی هم ده سره دی ـ او هم دی د هر ځیز مالک او قابض دی ـ او هم دی ښه عالم دی چه په کوم وقت کښې پرښته رسول ته ښایی ولیږله شی؟ ـ ډیره مقربه پرښته او معظم رسول هم د دی خبری واک او اختیار نه لری چه هر چیری ئی زړه وغواړی لاړ شی ـ او هر کار چه خوښه ئی وی وئی کړی ـ یا کوم یو ځان ته وغواړی د الله تعالیٰ هر کار پر خپل محل او پر خپل وقت وی ـ تیرواته ـ سهو ـ نسیان ـ خطاء ـ غفلت او نور پکښې نشته او نه دغه شیان د ده تر دربار پوری رسیدی شی. مطلب دا دی چه د جبریل علیه السلام ژر یا په ځند (تاخیر) راتلل هم د ده د حکمت او مصلحت تابع دی.

**اوله تنبیه:** «په مخ کښې ځمونږ او وروسته ځمونږ» آسمان او ځمکی ته ویلی دی چه د راښکته کیدلو په وقت ځمکه مخ کښې او آسمان وروسته ـ او د پورته کیدلو په وقت آسمان مخ کښې او ځمکه وروسته وی او که له دغو ځنی زمانی تقدم او تأخر مراد وی نو مستقبل زمانه وروسته

راتلونکی او د ماضی زمانه مخ کښې تیره شوی ده او د حال زمانه د دواړو په منځ کښې واقع ده.

**دوهمه تنبیه:** پخوا ئې فرمائلی ؤ چه د جنت وارثان اتقیاء (له الله څخه ویریدونکی پرهیزگاران) دی په دغه آیت کښې ئې دغه اوښودل چه ویره ښائی له هم هغه ذات څخه وکړه شی چه وړ (مستحق) او لائق د دی کیدی شی او د ده په قبضه او واک کښې گردی (تولی) ازمنی او امکنی دی ـ او بی د ده د حکم او اجازی څخه دیره لویه پرښته هم خپله بنه (پر) نشی خوځولی ـ انسان ته لازم دی چه د جنت میراث وړل غواړی نو د پرښتو په شان تل د الله تعالیٰ حکم ته مطیع او منقاد اوسی او دغه ته هم اشاره وشوه. هغه الله تعالیٰ چه په دغه دنیا کښې خپل مخلص بندگان نه هیروی نو په هغه دنیا کښې به هم دوی نه هیروی ـ او هرومرو (خامخا) ئې جنت ته رسوی ـ هو! دغومره دی چه هر شی یو وقت لری، په جنت کښې د هر یو نزول به هم پر خپلو، خپلو وقتو کښې وی ـ او هم هغسی چه دلته پرښتی د الله تعالیٰ له حکمه سره سم په معینو اوقاتو کښې راځی ـ په جنت کښې هم جنتیانو ته روحانی او جسمانی غذا پر خپلو مقرره ؤ اوقاتو کښې راځی.

رَّبُّ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا فَاعْبُدْهُ وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهٖ ؕ

(الله) رب د آسمانو دی او (رب) د ځمکی دی او (رب) د هغو شیانو دی چه په منځ د دوی کښې دی نو عبادت کوه د ده او صبر کوه په عبادت د دغه (الله) کښې (په طاعت ـ مصیبت او له معصیته)؛

**تفسیر:** یعنی د هیچا د ویلو او اورولو پروا مه کوه! او د خپل هغه الله تعالیٰ په بندگی کښې تینگ اوسه! چه د گرد (تول) جهان رب دی ـ او د خورا (زیاتو) دیرو صفاتو او ستایلو څیښتن (خاوند) دی.

هَلْ تَعْلَمُ لَهٗ سَمِيًّا ﴿٦٥﴾ ع

آیا پیژنی ته ده ته کوم هم نام (او مثل بلکه نه یی لری).

**تفسیر:** د الله تعالیٰ اسماء د ده صفات دی ـ یعنی څوک د الله په صفت سره موصوف شته چه پکښې د ده پشان صفات موجود وی؟ کله چه بل هیڅوک نشته نو د بندگی لایق هم بل هیڅوک له سره نشی کیدی.

وَيَقُولُ الْإِنسَانُ أَءِذَا مَا مِتُّ لَسَوْفَ أُخْرَجُ حَيًّا ﴿٦٦﴾

او وائی (له بعثه منکر) انسان آیا کله چه مړ شم زه نو خامخا ژر به را وایستلی شم (له ځمکی) ژوندی (بلکه نه ژوندی کیږم او نه بل ژوندون شته).

**تفسیر:** په پخوانی رکوع کښی ئی د نیکانو او بدانو هغه انجام بیان فرمایلی ؤ چه وروسته له مرګه پیښیدونکی وی ـ هغه کسان چه پس له مرګه بیا ژوندون محال او مستبعد ګڼی ـ دلته د دوی د شبهاتو جواب ورکاوه کیږی ـ یعنی انسان د انکار او تعجب له لیاری وائی چه مونږ وروسته له مرګه چه ځمونږ هدوکی هم وراسته او رژیږی ـ او له خاورو سره ګډیږی ـ آیا بیا ژوندی او له خپلو قبرونو ځخه راپورته کیږو؟ او د عدم له کتمه د وجود په منصه راتلی شو؟

أَوَلَا يَذْكُرُ الْإِنسَانُ أَنَّا خَلَقْنَاهُ مِن قَبْلُ وَلَمْ يَكُ شَيْئًا ﴿٦٧﴾

آیا نه یادوی (له بعثه منکر) انسان (دا خبره) چه بیشکه مونږ پیدا کړی ؤ دی پخوا له دی نه او نه ؤ دی هیڅ شی (بلکه محض عدم ؤ).

**تفسیر:** یعنی سره له انسانیته پر دغومره غته خبره باندی هم نه پوهیږی چه څو ورځی پخوا له دی نه دی هیڅ څیز ؤ، نو الله تعالیٰ دی له عدم څخه وجود ته راووست نو آیا هغه لوی ذات چه له لاشی څخه شی او له محض معدوم څخه موجود کوی ـ پر دی نه دی قادر چه یو شی وروسته له فناء بیا پیدا کړی شی؟ او متفرقه اجزاء ئی بیرته راټول کړی؟ آدمی ته لا د ده د ړومبنی ژوندون حال او احوال نه دی معلوم نو څرنګه دی پر خپل وروستنی ژوندون خاندی او ملندی وهی.

﴿ وَهُوَ الَّذِي يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ وَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِ ﴾ جزء ٢١ (د الروم ٢٧ آیت ٣ رکوع)

فَوَرَبِّكَ لَنَحْشُرَنَّهُمْ وَالشَّيَاطِينَ

پس قسم دی په رب ستا باندی چه خامخا راجمع به کړو مونږ هرومرو (خامخا) دوی او شیطانان (ټول)

**تفسیر:** یعنی منکرین سره له هغو شیاطینو د قیامت په ورځ کښی حاضرولی شی چه دوی ئی اغوا کړی وه ـ او د هر مجرم شیطان به له ده سره یو ځای نیول کیږی.

ثُمَّ لَنُحۡضِرَنَّهُمۡ حَوۡلَ جَهَنَّمَ جِثِيًّا ﴿٦٨﴾

بيا به خامخا راحاضر کړو مونږ هرومرو (خامخا) دوی چاپیر له دوزخ پر ګونډو پراته (له ډیر هیبته)

**تفسیر:** یعنی له ډیر دهشت او ویری له ولاړی ځخه لویږی او په قراره سره به کیناستی هم نه شی نو هم دغه شو پر ګونډو باندی پریوتل.

ثُمَّ لَنَنۡزِعَنَّ مِنۡ كُلِّ شِيۡعَةٍ اَيُّهُمۡ اَشَدُّ عَلَى الرَّحۡمٰنِ عِتِيًّا ﴿٦٩﴾ ثُمَّ لَنَحۡنُ اَعۡلَمُ بِالَّذِيۡنَ هُمۡ اَوۡلٰى بِهَا صِلِيًّا ﴿٧٠﴾

بیا به خامخا وباسو له هری فرقی نه هر هغه د دوی چه ډیر سخت دی پر رحمٰن باندی له جهته د سرکشی (او زړورتوب). بیا خامخا مونږ ښه عالم یو پر هغو کسانو چه دوی ښه لائق دی له دغه (دوزخ) سره له جهته د غورځولو، سوځولو، داخلولو.

**تفسیر:** یعنی د منکرانو هره فرقه چه زیات بدمعاش، سرکش او زړوره وه ـ دوی به له نورو فرقو ځخه بیل کړه شی ـ بیا به دوی کښی هر یو چه د خورا (ډیر) ډیری سزا لائق او د دوزخ زیات حقدار وی نو هغه د الله تعالیٰ په علم کښی دی ـ او له ګردو (ټولو) مجرمانو ځخه به ړومبی په اور کښی غورځاوه شی.

وَاِنۡ مِّنۡكُمۡ اِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلٰى رَبِّكَ حَتۡمًا مَّقۡضِيًّا ﴿٧١﴾ ثُمَّ نُنَجِّى الَّذِيۡنَ اتَّقَوۡا وَّنَذَرُ الظّٰلِمِيۡنَ فِيۡهَا جِثِيًّا ﴿٧٢﴾

او نشته هیڅوک له تاسی مګر چه دی واردیدونکی ننوتونکی دی دغه ته (یعنی دوزخ ته چه مؤمن پر صراط تیریږی او کافر تری لویږی). دی (دغه عبور علی النار) په رب ستا یقینی حکم پری کړی شوی. بیا به نجات ورکړو هغو کسانو ته چه پرهیزګاری ئی کړی ده او پری به ږدو ظالمان په دوزخ کښی پر ګونډو پریوتلی.

**تفسیر:** یعنی د هر یوه نیک او بد ـ بری او مجرم ـ مؤمن او کافر لپاره الله تعالیٰ قسم یاد فرمایلی دی چه ضرور بالضرور دوی پر دوزخ باندی تیریدونکی دی ځکه چه د جنت د تللو لیار پر هم دغه دوزخ باندی پوری وځی چه هغه ته د ځمونږ په عمومی محاوراتو کښی «پل صراط» وائی ـ پر دغه باندی د هر سړی لامحاله تیریدل دی. د الله تعالیٰ څخه ویریدونکی مؤمنان هر یو سم له خپلی درجی سره له دی نه په تلوار صحیح او سلامت تیریږی او ګنهګاران به تری ښوئیږی او لاندی به په دوزخ کښی لویږی (العیاذ بالله) بیا څه مدت وروسته هر یو سم له خپله عمله سره او هم د انبیاؤ او ملائکه ؤ او صالحینو په شفاعت او بالاخر مستقیماً د ارحم الراحمین په لطف او مهربانی دغه ګرد (تول) ګناه ګاران چه په رښتیا او صحیح اعتقاد سره ئی طیبه کلمه لوستی ده له دوزخه ایستلی کیږی ـ او یواځی کافران به پکښی باقی پاتی کیږی ـ او د دوزخ خوله به تړله کیږی ـ له ځینو روایاتو څخه معلومیږی چه د دوزخ په اور کښی به هر یو سړی داخلاوه شی ـ مګر پر صالحانو دغه اور «برد» او «سلام» کیږی او دوی به بی له اندیښنی او تردد تری تیریږی والله اعلم.
ځمونږ امام فخرالدین رازی رحمة الله علیه پخپل لوی او په زړه پوری تفسیر کښی د دغه دخول ډیر حکمتونه بیان فرمایلی دی فلیراجع.

---

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا أَيُّ الْفَرِيقَيْنِ خَيْرٌ مَّقَامًا وَأَحْسَنُ نَدِيًّا ﴿٧٣﴾

---

او کله چه ولوستی شی پر دوی آیتونه (د قرآن) ځمونږ په دی حال کښی چه واضح ښکاره دی وائی هغه کسان چه کافران شوی دی هغو کسانو ته چه ایمان ئی راوړی دی چه کوم یو له دغو دواړو فرقو څخه خیر بهتر غوره دی له جهته د مقامه او ډیر ښه دی له جهته د مجلسه.

---

**تفسیر:** یعنی کفارو د لوی قرآن د آیاتونو له آوریدو څخه چه په هغه کښی د دوی بد انجام ورښوولی شوی دی ـ د استهزاء او تفاخر په ډول (طریقه) غریبو مسلمانانو ته به ئی ویل چه سم ستاسی له زعمه چه په آخرت باندی معتقد یئ هر شی چه په آخرت کښی وړاندی کیدونکی دی ـ د دواړو فرقو پر موجوده حالت او مهال (وخت) باندی منطبق کیدونکی دئ آیا ځمونږ ننني عمارت ـ اثاث البیت ـ د هستوګنی سامان ـ او د ژوندون وسائل او ډول او ډیل (سنګار) له تاسی څخه ښه او بهتر نه دی؟ او ځمونږ مرکی ـ جرګی او مجالس ستاسی له مرکو جرګو او مجالسو څخه معتبر او معزز نه دی؟ یقیناً مونږ ستاسی په نزد پر باطل یو خو ستاسی له اهل

الحق څخه مونږ ډیر خوښ ـ هوسا (ارام) او د سرپیو او ملاترو خاوندان یو ـ آیا هغه کسان چه څمونږ له خوفه او ویری نن د صفا د غره په کندو کښې پټیږی ـ او هلته د نظر بندو پشان کوښی (بیل) ناست وی صبا به په یوه توپ سره جنت ته رسیږی او دوی داسی ګمان کوی چه مونږ به دوزخ کښې لویږو؟ بلکه نه دی داسی.

وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ هُمْ أَحْسَنُ أَثَاثًا وَرِءْيًا ﴿٧٤﴾

او څومره (ډیر) هلاک کړی دی مونږ پخوا له دوی نه له (اهل د) زمانی چه هغوی ښه وو له جهته د سامانونو او له جهته د شکل او ډول (سینګار) او منظری.

**تفسیر:** دا د هغوی د خبری جواب ورکړ چه پخوا له دی نه ډیر اقوام تیر شوی دی چه په دنیوی ساز او سامان او نور شوکت او شان کښې پر تاسی ډیر اوچت او غوړ او وړ (لائق) وو مګر څه مهال (وخت) چه هغوی د انبیاؤ په مقابل سرکشی، تکبر، تفاخر او لوئی خپل کار او شعار ښکاره کړ نو الله تعالیٰ د هغوی بیخ او بکر له سته وویست او د دنیا په نقشه کښې د هغوی نوم او نښان پاتی نشو نو انسان ته لازم دی چه د دنیا په فانی عیش او نشاط او زائل جاه او جلال او بیکاره مظاهرو او مناظرو ونه غولیږی. بالعموم هم دغه متکبر او ځانمنه (مغرور) دولتمندان او د مالونو او شتو خاوندان حق او حقانیت په لته وهی که پاک الله د هلاکت د نهنګ یوه ګوله له دوی نه سازه کړی نو دغه مال او دولت او دنیوی عیش او عشرت د دوی د مقبولیت او ښه انجام دلیل له سره نشی کیدی.

قُلْ مَن كَانَ فِي الضَّلَالَةِ فَلْيَمْدُدْ لَهُ الرَّحْمَٰنُ مَدًّا ۚ

ووایه (ای محمده! دوی ته) هر څوک چه وی په ګمراهی کښې پس زیاتوی (اوږدوی) ده ته رحمٰن په زیاتولو (د مال او د عمر) سره.

**تفسیر:** یعنی هر څوک چه په خپله ګمراهی او ضلالت کښې لویدلی وی ـ هغه هم هغسی پریږده! ځکه چه دنیا د امتحان ځای دی ـ دلته هر چا ته فی الجمله د هر عمل دپاره آزادی ورکړی شوی ده ـ د الله تعالیٰ د عادت او د حکمت اقتضاء هم دا ده. هر څوک چه په خپل کسب او اراده هره یوه لیاره ځان ته غوره کړی ـ وروسته له دی نه چه دی د نیکو او بدو په نتائجو او عواقبو باندی خبر کړ شی ـ دی پر همغی خوښې کړی لیاری تر یوه حده پوری آزاد او خپلواک پریښودی شی چه لاړ شی. نو ځکه هر څوک چه د بدی پر لیاره درومی پس د هغه په حق کښې

د دنیا مرفه الحالي او د عمر اوږدوالي او نور د هلاکت او تباهی علائم وګڼل شي ـ ځکه چه نیک او بد ګرد (تول) سره مخلوط او ګډوډ دی ـ او په آخرت کښی به په پوره ډول (طریقه) سره له منځه جلا (جدا) کیږی ـ او اصلي نیکی یا بدی به هر چا ته هلته وررسیږی.

حَتّٰىٓ إِذَا رَأَوْا مَا يُوعَدُونَ إِمَّا الْعَذَابَ وَإِمَّا
السَّاعَةَ فَسَيَعْلَمُونَ مَنْ هُوَ شَرٌّ مَّكَانًا وَّأَضْعَفُ جُندًا ﴿٧٥﴾

تر هغه پوری کله چه وګوری دوی هر هغه شي چه وعده ورسره کړی شوی وی (د هغه) یا عذاب (په دنیا په قتل او بند) یا قیامت؛ نو ژر به پوه شي دوی (په هغه وقت کښی چه) څوک دی هغه ډیر بد له جهته د ځای او ډیر ضعیف له جهته د فوجه.

**تفسیر:** یعنی کفار مسلمانان خوار، ذلیل او کمزوری ګڼی ـ او خپل ځانونه مغرور ـ طاقتور ـ او لوی بولی او پر خپلو اوچتو مانیو محلاتو او لویو لویو فوجونو او ګوندونو (دلو) باندی نازیږی او افتخار کوی ځکه چه اوس پاک الله دوی سر خوشي او خپلواک او آزاد پریښی دی څه مهال (وخت) چه دوی له ستونی څخه ونیول شي ـ او په دنیوی عذاب یا اخروی عقاب ککړ او اخته شي ـ نو هلته به ورته معلوم شي چه د چا ځای خراب؟ او کوم یو جمعیت کمزور او بیکاره دی؟ نو په دغه موقع کښی د دوی ساز او سامان ـ اولاد ـ لښکر او نور شیان هیڅ په کار او ښه ور نه شي.

وَيَزِيدُ اللّٰهُ الَّذِينَ اهْتَدَوْا هُدًى ۗ وَالْبَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ
خَيْرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَّخَيْرٌ مَّرَدًّا ﴿٧٦﴾

او زیاتوی الله (په دنیا کښی) هغو کسانو ته چه سمه صافه لیاره ئی موندلی وی هدایت ثبات او یقین؛ او باقی پاتی کیدونکی (د جزاء په اعتبار) نیک عملونه خیر بهتر غوره دی په نزد د رب ستا له جهته د ثواب او خیر بهتر غوره دی له جهته د بیرته ورتللو.

**تفسیر:** یعنی دغه دنیوی رونق د الله تعالیٰ په دربار کښی له سره په کار ورتلونکی شي نه دی ـ

او يواځې حسنات او نيکۍ د ده په دربار کښې ذی مقدار او قيمتدار دی. په آخرت کښې د هرې نيکۍ بدل او جزاء په ډير ښه صورت سره ورکوله کيږی.

أَفَرَءَيْتَ الَّذِي كَفَرَ بِآيَاتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا ﴿٧٧﴾

آيا پس ليدلی دی تا هغه څوک چه کفر ئی اختيار کړ په آيتونو (د قدرت ځمونږ او وائی خامخا راکول کيږی (په آخرت کښې) ماته مال او ولد (ځوی لور).

**تفسير:** يعنې سره له کفره تاسی يو جرئت او ځغرد (ضد) وليد چه يو مالدار کافر يو ښې (لوهار) ته ووئيل چه ته که له مسلمانی څخه انکار وکړی نو ستا مزدوری (باړه) به درکړم - دغه خوار مزدور مسلمان د هغه مالدار کافر په جواب کښې ووئيل - که ته د هم دغه مقصد دپاره مر او بيا ژوندی شې خو بيا به هم زه پر اسلام نه منکريږم. نو په دی باندی دا آيت نازل شو؛ اخروی مال او دولت د ايمان او توحيد په بدل ورکول کيږی. کافران غواړی چه دنيوی دولت په عقبٰی کښې هم د دوی په برخه شی - يا سره له کفره د اخروی عيش او تنعم څخه هم برخه ومومی چه پکښې مزی وکړی. نو دغه له سره کيدونکی نه دی.

أَطَّلَعَ الْغَيْبَ أَمِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمَٰنِ عَهْدًا ﴿٧٨﴾

آيا خبر شوی دی (دغه کافر) پر غيب يا اخيستي ده په نزد د رحمٰن وعده (چه ده ته مال او دولت ورکول کيږی په آخرت کښې هم).

**تفسير:** يعنې په داسی يقين او وثوق سره چه دغه دعوی کوی - آيا ده له غيبه خبر موندلی دی؟ يا ئی د الله تعالیٰ څخه وعده اخيستی ده؟ ظاهر دی چه له دغو دواړو څخه يو هم نه دی. د يوه ګنده او چټل کافر به څه قدر او حيثيت وی چه هغه به تر دغو غيبياتو پوری ځان ورسولی شی - پاتی شوه د الله تعالیٰ وعده - هغه خو له هغو خلقو سره کيدی شی چه هغوی خپل عهدونه پوره کړی دی - او ﴿لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ﴾ ئی ويلی او د صالح عمل امانت ئی له الله تعالیٰ سره ايښی وی.

كَلَّا ۚ سَنَكْتُبُ مَا يَقُولُ وَنَمُدُّ لَهُ مِنَ الْعَذَابِ مَدًّا ﴿٧٩﴾

نه دی داسی (چه دوی وائی يعنې نه ورکول کيږی دوی ته مال او ولد) مونږ

ليکو هغه چه وائي او وبه غځوو ده ته له عذابه په غځولو (چه د يوه د پاسه به بل ورته ورکوو).

**تفسير:** يعني دغه قول به هم د ده په دفتر (دوسيه) کښې شامل کړی شي او د مال او اولاد په ځای به د هغه سزا زياته کړه شي.

وَّنَرِثُهٗ مَا يَقُوْلُ وَيَاْتِيْنَا فَرْدًا ﴿٨٠﴾

او په ميراث به اخلو (له ده په مرګ سره) هغه (مال اولاد) چه (دی ئې د ځان) وائي او راځي مونږ ته يواځې (بې له ماله او اولاده).

**تفسير:** چه «دی ئې خپل وائي» يعني مال، اولاد، لکه چه د هغه کافر دواړه ځامن مسلمانان شول (کذا في الموضح) يا دا مطلب دی چه د ده دغه شيان به تری بيل کړل شي او په قيامت کښې به دی يواځې حاضريږی نه به مال ورسره وی نه اولاد.

وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اٰلِهَةً لِّيَكُوْنُوْا لَهُمْ عِزًّا ﴿٨١﴾ كَلَّا

او نيولي دی (کفارو) غير له الله څخه باطل معبودان دپاره د دی چه شي دوی ته سبب د عزت (او مدد) نه دی داسي (لکه چه دوی ئې ګڼی)،

**تفسير:** يعني برسيره له ماله او اولاده د خپلو باطلو معبودانو امداد او مرستی (مدد) ته هم هيله من (ارزومند) او اميدوار دی چه هغوی به دوی ته د الله په حضور ډيری لوئی درجی ورکوی - حال دا چه له سره داسی کيدونکی نه دی - او دغه نشه يوه چټی (فضول) سودا ده چه دوی پخپلو دماغو کښې ورته ځای ورکړی دی.

سَيَكْفُرُوْنَ بِعِبَادَتِهِمْ وَيَكُوْنُوْنَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا ﴿٨٢﴾

بلکه ژر به منکر شي (دغه معبودان) په عبادت د دوی او شي به دغه (معبودان) پر دغو (عابدانو) خپلو دښمنان.

**تفسير:** يعني هغه معبودان به له دوی سره څه مدد وکړی؟ بلکه دوی به بالذات د دغو مشرکانو د دغه عبادت څخه هم د بی زاری اعلان وکړی - او د دوی په مقابل کښې به ودريږی - او د

هغوی د عزت زیاتولو په ځای به د دوی د زیات ذلت او رسوائی سبب وګرځی ـ لکه چه په ٢٦ جزء د الاحقاف (٦) آیت (١) رکوع کښی راغلی دی.

﴿ وَإِذَا حُشِرَ النَّاسُ كَانُوا لَهُمْ أَعْدَاءً وَكَانُوا بِعِبَادَتِهِمْ كَافِرِينَ ﴾

أَلَمْ تَرَ أَنَّا أَرْسَلْنَا الشَّيَاطِينَ عَلَى الْكَافِرِينَ تَؤُزُّهُمْ أَزًّا ﴿٨٣﴾ فَلَا تَعْجَلْ عَلَيْهِمْ إِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمْ عَدًّا ﴿٨٤﴾

آیا نه ګوری نه ئی خبر (ای محمده) بیشکه مونږ لیږلی مسلط کړی مو دی شیطانان پر کافرانو باندی چه اوچتوی تیزوی دوی په اوچتولو تیزولو سره (په ګناه) پس تلوار مه کوه پر دوی (په ژر غوښتلو د عذاب) بیشکه هم دا خبره ده چه شمیرو مونږ دوی ته (ورځی د عمر د دوی) په شمارولو سره.

**تفسیر:** یعنی شیطان دغه بدبختان لا پسی بی لیاری او ګمراه کوی ـ او د خپلو ګوتو په اشارو سره ئی نخوی (ګډوی) ـ هغو کسانو چه دوی پخپله د کفر او انکار طریقه ځان ته غوره کړی ده که داسی اشقیاء د شیطان به تحریص او اغواء په ګمراهی کښی زیادت او غلو وکړی ـ نو تاسی هغوی پریږدئ او تاسی د دوی په سزا ورکولو کښی تلوار مه کوئ! الله تعالیٰ د دوی رسی سسته کړی ده ـ او دوی ئی سر خوشی پریښی دی ـ څو د هغوی د ژوندون شمیرلی شوی ورځی تیری شی ـ د دوی د یوی یوی ساه او د یوی یوی شیبی هر یو عمل ځمونږ له لوری شمیرلی کیږی ـ او د دوی ډیر ادنیٰ عمل او حرکت هم ځمونږ د علمی احاطی او د اعمالو له دفاترو څخه خارج نشی پاتی کیدی ـ د ګرد (تول) عمر اعمال به یو په یو د دوی په مخ کښی کیښودی شی.

يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِينَ إِلَى الرَّحْمَٰنِ وَفْدًا ﴿٨٥﴾ وَنَسُوقُ الْمُجْرِمِينَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ وِرْدًا ﴿٨٦﴾

یاد کړه هغه ورځ چه جمع به کړو پرهیزګاران رحمٰن ته سواره میلمانه بللی شوی او شړو (په شدت سره) مجرمان (طرف د) دوزخ ته (د حیواناتو په شان) پلی (پیاده) تږی.

**تفسیر:** یعنی هم هغسی چه څاروی دنگر او حیوانات د تندی په حالت کسی د اوبو د گدر په لوری په مندو او تلوار ورځغلی دغه مجرمان به هم د دوزخ کندی ته هم داسی شړل کیږی.

لَا يَمْلِكُونَ الشَّفَاعَةَ إِلَّا مَنِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمَٰنِ عَهْدًا ﴿٨٧﴾

نه مالکان کیږی (هیڅ یو د دوی) د شفاعت (د هیچا) مگر هغه څوک چه اخیستی ئی ده په نزد د رحمٰن وعده (او په شفاعت مجاز وی).

**تفسیر:** یعنی له هغوی سره چه الله تعالیٰ د شفاعت وعده فرمائلی ده لکه ملائکی ـ انبیاء ـ صالحین او نور نو هم دوی به درجه په درجه شفاعت کوی بلا اجازت هیڅوک به د ژبی خوځولو توان هم نه لری. او د همغو خلقو سپارښت به وکری شی چه د هغوی په حق کښی د سپارش کیدلو وعده لا له پخوا څخه ورکری شوی ده ـ د کافرانو په حق کښی به شفاعت له سره نه کیږی.

وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمَٰنُ وَلَدًا ﴿٨٨﴾

او وائی (کتابیان مشرکان) نیولی دی رحمٰن ولد (ځوی لور).

**تفسیر:** ډیرو کسانو غیر الله خپل معبود مقرر کړی وو ـ لیکن یوه دله داسی هم وه چه د الله تعالیٰ دپاره ئی د اولاد تجویز هم کری ؤ ـ مثلاً نصرانیانو مسیح علیه السلام او ځینو یهودانو عزیر علیه السلام او ځینو مشرکینو د عربو پرښتو ته به ئی د الله تعالیٰ لونی ویل (العیاذ بالله) (نو فرمائی الله دغو کفارو ته)

لَقَدْ جِئْتُمْ شَيْئًا إِدًّا ﴿٨٩﴾ تَكَادُ السَّمَاوَاتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَتَنْشَقُّ الْأَرْضُ وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا ﴿٩٠﴾ أَنْ دَعَوْا لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدًا ﴿٩١﴾

خامخا په تحقیق راتله کری دی تاسی په یو شی لوی سره له حیثیته د گناه. نژدی دی آسمانونه چه وچوی له دی (نسبته) (او نژدی ده چه) توټی توټی شی ځمکه او ولویږی غرونه غرکی غرکی (ذری ذری) له جهته د دی چه بولی دوی رحمٰن ته ولد (ځوی لور).

**تفسیر:** یعنی دغه داسی درنه خبره ویلی شوی ده او داسی یوه سخته بی ادبه کلمه او توری له خولی څخه ایستلی شوی دی ـ چه د هغه له اوریدلو څخه آسمان ـ ځمکه ـ غرونه ـ د هول او هیبت او ویری لامله (له وجی) لویږی ـ چوی ـ توتی توتی او تکر تکر کیږی. نو هیڅ بعید نه دی که پر دغه گستاخی د الله تعالیٰ غضب په جوش راشی ـ نو گرد (تول) عالم به سره لاندی باندی او تر آسمان او ځمکی پوری هم سره لړزیږی او پرخچی ئی الوځی ـ محض د الله تعالیٰ حلم مانع دی چه سره د دغو بیهودگیو او چتی (فضول) خبرو یو ځلی گرد (تول) عالم نه اړوی ـ او گرد (تول) سره سپیره او پنا نه کوی ـ د هغه قدوس الله تعالیٰ پر توحید چه آسمان ځمکه غرونه الغرض گرد (تول) علویات او سفلیات شهادت ورکوی د انسانانو دغی سپین سترگی او جسارت ته وگورئ چه هغه لوی ذات ته د اولاد احتیاج ثابتوی (العیاذ بالله) نو فرمائی الله تعالیٰ چه.

وَمَا يَنۢبَغِي لِلرَّحۡمَٰنِ أَن يَتَّخِذَ وَلَدًا ﴿٩٢﴾

او نه ښائی رحمٰن ته چه ونیسی (دی څوک) ولد (لور ځوی).

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ د تقدیس او تنزیهه او د غناء له کماله دا خبره منافی ده چه څوک خپل اولاد وگرځوی بنا پر هغه غرض چه نصرانیان د اولاد قائل شوی دی یعنی د «کفاره» مسئله کله چه الله تعالیٰ د «رحمٰن» په صفت سره وپیژنی او ومنی نو بیا دغه ضرورت له سره نه پاتی کیږی.

إِن كُلُّ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ إِلَّآ ءَاتِي ٱلرَّحۡمَٰنِ عَبۡدًا ﴿٩٣﴾

نه دی تول هغه (گرد شیان) چه دی په آسمانونو کښی او ځمکه کښی مگر راتلونکی دی رحمٰن ته په دغه حال کښی چه بنده وی هر یو (نه ولد)؛

**تفسیر:** یعنی گرد (تول) د الله تعالیٰ مخلوق او د ده بندگان دی او د ده د بندگی په صفت سره د ده په حضور کښی حاضریږی ـ نو بیا بنده څرنگه ولد کیدی شی؟ ـ کله چه گرد (تول) ده ته محکوم او محتاج وی نو دی به ځوی او لور ته څه ضرورت او احتیاج ولری.

لَّقَدۡ أَحۡصَىٰهُمۡ وَعَدَّهُمۡ عَدًّا ﴿٩٤﴾ وَكُلُّهُمۡ ءَاتِيهِ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فَرۡدًا ﴿٩٥﴾

خامخا په تحقیق احاطه کړی ده (الله) دوی لره (له جهته د علم او قدرت) او شمیرلی دی (الله) دوی (تول من حیث الاشخاص والانفاس والافعال او نورو) په شمیرلو سره. او دا ټول چه دی راتلونکی دی دغه (الله) ته په ورځ د قیامت کښې یواځې.

**تفسیر:** یعنی د بشر یو فرد هم د الله تعالیٰ له بندګی څخه نشی خارجیدی، او ګرد (ټول) د الله تعالیٰ په حضور کښې جره او یواځې حاضریږی په دغه وقت کښې به له ګردو (ټولو) تعلقاتو او سازو او سامانو څخه بیل کړی شی ـ او فرضی معبودان ـ ځامن ـ لمسی ـ پلار ـ مور او نور به ئې هیڅ په کار نه ورځی.

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمَٰنُ وُدًّا ﴿٩٦﴾

بیشکه هغه کسان چه ایمان ئې راوړی دی او کړی ئې دی ښه (عملونه) ژر به وګرځوی دوی ته رحمٰن دوستی محبت (په زړونو د خلقو کښې).

**تفسیر:** یعنی دوی ته به خپل محبت ورکوی یا په خپله به له دوی سره محبت کوی یا د خلقو په زړونو کښې به د دوی محبت غورځولی کیږی. په حدیث کښې راغلی دی چه کله الله تعالیٰ ته کوم بنده محبوب وی نو رومبی جبریل علیه السلام خبروی چه زه د فلانی بنده سره محبت کوم ـ نو ته هم له هغه سره محبت ولره نو جبریل علیه السلام په آسمانونو کښې د دغی خبری اعلان خوروی؛ له آسمانونو څنې دغه خبره راښکته کیږی او ځمکې ته رسیږی او د ځمکې په خلقو کښې د دغه بنده په برخه کښې حسن القبول حاصلیږی یعنی بی تعلق خلق چه د هغوی کومه خاص نفع او ضرر د ده له ذاته سره نه وی تړلی له ده سره مینه او محبت کوی مګر دغه قسم حسن القبول ابتداء له صالحینو مؤمنینو او الله منونکو خلقو سره دی ـ د دوی په زړونو کښې اول د ده محبت اچولی کیږی ـ وروسته د عامو او د خاصو قبول ورحاصلیږی ـ که نه په ابتداء کښې محض د عامو په طبقه کښې حسن القبول حاصلیدل او بیا د څینو الله منونکو او صالحانو هم د کومی غلط فهمی او نورو په اساس د ده په طرف تمائل کیدل د مقبولیت عند الله دلیل نه دی ـ ښه پری وپوهیږئ.

**تنبیه:** دغه آیت مکی دی او له هغو مسلمانانو سره چه په مکه معظمه کښې داسی وعده کړی شوی وه لږ وقت وروسته دغه وعده په داسی ډول (طریقه) سره پوره شوه چه ګرده (ټوله) دنیا متحیره او متعجبه شوه. الله تعالیٰ د دوی داسی محبت او الفت د خپلو بندګانو په زړونو کښې وغورځاوه چه د هغه بل مثال او نظیر له سره نه پیدا کیږی.

فَإِنَّمَا يَسَّرْنَٰهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ بِهِ ٱلْمُتَّقِينَ وَتُنذِرَ بِهِۦ قَوْمًا لُّدًّا ﴿٩٧﴾

پس بیشکه هم دا خبره ده چه آسان کړی دی مونږ دغه (قرآن) په ژبه ستا (چه عربی دی) دپاره د دی چه زیری ورکړی په دی سره پرهیزګارانو ته او چه وویروی په دی سره قوم جګړه کوونکی.

**تفسیر:** یعنی لوی قرآن په نهایت سهل، آسان او صاف بیان او په واضح او ښکاره دول (طریقه) سره پرهیزګارانو ته بشارت آوروی او جګړه کوونکو ته د ناکارو کارونو له خرابو نتائجو څخه خبر ورکوی.

وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ هَلْ تُحِسُّ مِنْهُم مِّنْ أَحَدٍ أَوْ تَسْمَعُ لَهُمْ رِكْزًۢا ﴿٩٨﴾

او څومره دیر هلاک کړی دی مونږ پخوا له دوی نه له (اهل د) زمانی آیا محسوسوی (مومی وینی) ته له دوی نه یو تن یا اوری له دوی کوم نرم غږ هم؟

**تفسیر:** یعنی څومره بدبخت د خپلو جرائمو په سزا هلاک شوی دی چه د هغوی نوم او نښان هم بیخی د دنیا له مخی څخه محو او ورک شوی دی نن د دوی د پښو د غږ (کړهار کرښهار) او د تکبر او لوئی دیر نری آواز (بنهار) هم نه آوریده کیږی نو هغه کسان چه نن ورځ له رسول کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم سره مقابله او مجادله کوی او د آیات الله څخه انکار او پری استهزاء کوی دوی دی نه بیفکره کیږی ممکن دی چه دوی هم په هم داسی تباه کوونکو عذابونو کښی اخته شی ـ او په یوه رپه کښی به بیخی سپیره او پناه شی.

**تمت سورة مریم بحسن توفیقه ونصره فله الحمد و المنة اولاً وآخراً**

سورة «طٰهٰ» مكية الا آيتى (١٣٠) و (١٣١) فمدنيتان وهى مائة وخمس وثلاثون آية وثمانى ركوعات رقمها (٢٠) تسلسلها حسب النزول (٤٥) نزلت بعد سورة مريم

د «طٰهٰ» سورت مكى دى پرته (علاوه) له (١٣٠) او (١٣١) آيتونو چه مدنى دى يو سل او پنځه ديرش آيتونه اته ركوع لرى. په تلاوت كښى (٢٠) او په نزول كښى (٤٥) سورت دى. وروسته د «مريم» له سورته نازل شوى دى.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

(شروع) په نامه د الله چه خورا (ډير) مهربان ډير رحم والا دى.

طٰهٰ ① مَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ لِتَشْقٰٓى ② اِلَّا تَذْكِرَةً لِّمَنْ يَّخْشٰى ③

نه دى نازل كړى مونږ پر تا باندى قرآن دپاره د دى چه مشقت محنت پر خپل ځان بار كړى مگر (نازل كړى دى مونږ) تذكره پند دپاره د هغه چا چه ويريږى (له الله نه)

**تفسير:** يعنى لوى قرآن ځكه نازل شوى دى چه د هر چا زړه چه نرم وى او له الله تعالىٰ څخه ويريږى دى د قرآنى بياناتو څخه پند او نصيحت حاصل كړى ـ او د قرآن كريم له روحانى فيوضاتو او بركاتو څخه بى برخى او محروم پاتى نشى ـ او داسى كوم غرض نشته چه د پاك قرآن په نزول سره تاسى خامخا په كوم شاقه محنت او شديد تكليف كښى اخته كړى او نه دغه مقدس قرآن داسى يو شى دى چه (نعوذ بالله) د ده حامل يا عامل له سره بى برخى يا محروم او ناكامه پاتى شى ـ بلكه د دارينو له فيوضاتو څخه فائز المرام گرځى تاسى د دغو مكذبينو د خبرو د آوريدلو څخه له سره خفه ملول او تنگ زړه مه كيږئ! او نه هغوى پسى دومره ړبړ (زحمت) او تكليف پر خپل ځان تيروئ حق او حقانيت خوښوونكى او منونكى هرومرو (خامخا) بريالى او كاميابيږى تاسى په متوسط ډول (طريقه) سره په عبادت او رياضت كښى مشغول او لگيا اوسئ! په ځينو رواياتو كښى راغلى دى چه په ابتداء كښى رسول اكرم صلى الله عليه وسلم د شپى د مخى تر ډير وقته پورى په قيام او د پاك قرآن په تلاوت كښى مشغول او لگيا ؤ ـ كفارو به د دوى د دى محنت او رياضت د ليدلو څخه داسى ويل چه «محمد د دى قرآن له نزوله سره په سخت تكليف او مصيبت كښى لويدلى دى» نو د دغى خبرى جواب په دغو آياتونو كښى وركړى شوى دى چه فى الحقيقت پاك قرآن شقاء او زحمت نه بلكه شفاء او نور او رحمت دى هر څوك دى له دغه قرآنه په هره اندازه چه آسانه وى هغومره دى ولولى ﴿فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ﴾ مزمل»

تَنْزِيْلًا مِّمَّنْ خَلَقَ الْاَرْضَ وَالسَّمٰوٰتِ الْعُلٰى ﴿٤﴾

(نازل شوی دی) په نازلیدلو له طرفه د (هغه) الله چه پیدا کړی ئی ده ځمکه او آسمانونه لوړ لوړ(اوچت اوچت).

**تفسیر:** نو ځکه ضروری ده چه مخلوق دغه قرآن کریم په دیره خوشی او اخلاص سره د الله تعالیٰ جلجلاله د الوهیت پاک کلام ومنی! او پر خپلو سرونو او سترګو ئی کیږدی! او قطعاً له هغه څخه تخلف او تمرد ونه کړی او تری غاړه ونه غړوی.

اَلرَّحْمٰنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوٰى ﴿٥﴾

(دغه خالق د ځمکو او آسمانونو دیر مهربان) رحمٰن پر عرش باندی مستولی او غالب دی.

**تفسیر:** «د استواء علی العرش» مفصل بیان د «الاعراف» په (٦) رکوع کښی لیکلی شوی دی. د «عرش» په متعلق له نصوصو څخه هم دغومره ثابتیږی چه پائی لری او خاصو پرښتو هغه راپورته کړی دی او د آسمانونو په سر کښی د قبی په شان ولاړ دی د «روح المعانی» خاوند پر «عرش» او «استواء» علی العرش باندی پر دغه آیت مبسوط کلام کړی دی. **من شاء فلیراجع.**

لَهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَمَا تَحْتَ الثَّرٰى ﴿٦﴾

خاص الله لره دی هغه شیان چه په آسمانونو کښی دی او هغه شیان چه په ځمکه کښی دی (سره له آسمانونو او ځمکی ملکاً خلقاً عبیداً) او هغه شیان چه په منځ د دوی کښی دی او هغه چه لاندی له لوندی ځمکی څخه دی.

**تفسیر:** یعنی هم هغه الله تعالیٰ یواځی د غیر له شرکته له آسمانونو څخه نیولی تر ځمکی او له ځمکی څخه تر تحت الثریٰ پوری د ګردو (ټولو) کائناتو خاص مالک او خالق دی د ده په تدبیر او انتظام سره دغه ګردی (ټولی) سلسلی قائمی دی.

**تنبیه:** د آسمان او د ځمکی مخلوق څخه یا خو «کائنات الجو» مراد دی چه تل د دواړو په منځ کښی دی. مثلاً هوا ـ وریځ او نور یا خو هغه شیان به هم په دی کښی شامل وی چه علی الاکثر په هوا کښی آلوځی. لکه طیور (الوتونکی) او له «ثریٰ ـ لوندی ځمکی» څخه د ځمکی

هغه لاندنى طبقه (پوړ) مراد ده چه تل د اوبو د قرب او اتصال له سببه لونده وى.

وَإِن تَجْهَرْ بِالْقَوْلِ فَإِنَّهُۥ يَعْلَمُ ٱلسِّرَّ وَأَخْفَى ۝٧

او كه جهر كوى په وينا سره (چه ذكر د الله او دعا ده ـ نو جهر ته حاجت نشته ځكه چه) پس بيشكه دغه (الله) عالم دى په پټه خبره او په ډيره پټه (له هغى پټى نه هم).

**تفسير:** رومبى د عمومى قدرت او تصرف بيان ؤ په دغه آيت كښى د الله تعالىٰ د علم د وسعت او پراخى تذكره ده يعنى هر هغه خبره چه په زور سره وويله شى هغه به څرنګه د هغه علام الغيوب څخه پټه پاتى كيدى شى چه هغه ته هره ښكاره او پټه بلكه له پټو څخه له ډيرو زياتو پټو خبرو هم ښه معلوم دى او ترى خورا (ډير) خبردار دى هر هغه خبره چه په ګوښى (بيل) او يواځى ځاى كښى په ډير ورو وويل شى يا هغه انديښنه خيال او تصور چه تش په زړه كښى ګرځيدلى وى او لا د قول او عمل مرتبى ته نه جهراً او نه سراً رسيدلى وى يا تر اوسه هيڅ په زړه كښى هم نه وى ګرځيدلى او وروسته له دى نه ګرځيدونكى وى د الله تعالىٰ علم پر دغو ګردو (ټولو) محيط دى. نو ځكه شريعت بلا ضرورت په چغه يا په ډير زور سره د ذكر كولو څخه ممانعت فرمايلى دى پرته (علاوه) له هغه مواقعو څخه چه پكښى ذكر په جهر سره منقول دى ـ يا د ځينو معتبرو مصالحو په بناء د تجربه كارانو په نزد نافع ګڼلى شوى دى نو هغه به له دغه نهى له عمومه مستثنىٰ وى.

ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ لَهُ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ ۝٨

الله (چه دى) نشته بل برحق معبود مګر يواځى هم دى دى خاص هم ده ته شته نومونه (صفتونه) نيك.

**تفسير:** په پاس آيت كښى د الله تعالىٰ هغه صفات چه بيان شول (لكه دا چه الله تعالىٰ خالق الكل على الاطلاق مالك ـ رحمٰن ـ مطلق قادر ـ د علم المحيط څيښتن دى) د هغو اقتضاء دا ده چه الوهيت هم د هم ده خاصه وى ـ ماسواء الله څخه دى د بل هيچا په مخ كښى د عبوديت او د بندګى سر ښكته نه كړ شى ځكه چه نه يواځى پورته ذكر شوى صفات بلكه ګرد (ټول) عمده صفات ښه نومونه ـ د هم دغه منبع الكمالات ذات ته مخصوص دى بل څوك په دغه شان او صفات نشته چه معبود شى ـ نه د دغو صفاتو او نومونو د تعدد له سببه د ده په ذات كښى تعدد راځى. لكه چه د عربو د ځينو جاهلو خيال ؤ چه په مختلفو نومونو سره د الله تعالىٰ بلنه به د

توحيد له دعوى سره مخالف وى.

وَهَلْ أَتٰىكَ حَدِيثُ مُوسٰىٓ ﴿٩﴾

او آيا راغلى ده (يا په تحقيق راغلى ده) تاته قصه د موسٰى.

**تفسير:** له دى ځايه راهيسى د حضرت موسٰى عليه السلام قصه په ډير بسط او تفصيل سره بيانوى تر څو چه آوريدونكى وپوهيږى چه نبى كريم صلى الله تعالىٰ عليه وعلىٰ آله وصحبه وسلم ته د قرآنى وحى راتګ كومه نوى او عجيبه خبره نه ده ـ څرنګه چه پر موسٰى عليه السلام وحى نازله شوى وه پر دوى هم نازله شوى ده ـ هم هغسى چه د موسٰى عليه السلام وحى پر توحيد او نورو اسلامى تعليماتو شامله وه د دوى په وحى كښى هم پر هم دغو شيانو تاكيدات صادر شوى دى ـ هغه مصاعب، متاعب او شدائد چه حضرت موسٰى عليه السلام د حق په تبليغ كښى برداشت كرى دى د همغو برداشت كول پر دوى هم دى ـ هم هغسى چه بالاخر برى او غلبه د موسٰى عليه السلام په برخه شوه د دوى په برخه هم كيدونكى ده. او لكه چه د موسٰى عليه السلام دښمنان مقهور او مغلوب شول ـ يقيناً د محمد عليه الصلوٰة والسلام دښمنان هم مخذول او مقهور ـ او دوى به هم غالب او منصوريږى. په دغه مناسب د موسوى نبوت ابتدائى قصه بيان فرمائى ـ څو پرى رسول الله صلى الله عليه وسلم لا متسلى او ښه داده شى.

إِذْ رَأٰ نَارًا فَقَالَ لِأَهْلِهِ امْكُثُوٓا إِنِّىٓ اٰنَسْتُ نَارًا لَّعَلِّىٓ اٰتِيكُم مِّنْهَا بِقَبَسٍ أَوْ أَجِدُ عَلَى النَّارِ هُدًى ﴿١٠﴾ فَلَمَّآ أَتٰىهَا نُودِىَ يٰمُوسٰىٓ ﴿١١﴾

كله چه وليد (موسٰى) اور نو وى ويل اهل خپل ته واوسئ (تاسى دلته) بيشكه ما وليد (يو) اور ښايى ما لره چه زه راوړم تاسى ته له هغه اوره كومه لګولى لنبه يا ومومم زه په اور باندى ليار ښوونكى (چه ليار راوښيي) پس كله چه راغى هغه (اور ته) نو غږ ورته وكړى شو (داسى) چه اى موسٰى.

**تفسير:** د دى قصى مختلفى اجزاء د القصص، طٰهٰ او الاعراف د سورتونو څخه جمع كيدى شى دلته له (مدين) څخه (د مصر) په طرف د بيرته ورتګ واقعه مذكوره ده ـ په (مدين) كښى د حضرت موسٰى عليه السلام نكاح د حضرت شعيب عليه السلام د لور سره ترلى شوى وه او لس كاله هلته مقيم پاتى شو او وروسته له هغه (د مصر) د ستنيدلو او بيرته راتللو اراده ئى وكړه ـ د ده سره د ده حامله (اميد واره) ښځه د (حضرت شعيب عليه السلام لور بى بى صفورا رضى

الله تعالىٰ عنها) هم وه. شپه توره تیاره وه ـ او یخني او ساړه هم شدت درلود (لړلو) ـ له دوی سره د پسو (ګډو) رمه هم وه ـ په دغه حالت له دوی څخه لیاره هم ورکه شوه ـ او پسونه (ګډان) هم سره تیت ؤ پرک (منتشر) شول. په عین زمان کښې (بی بی صفورا رضی الله تعالىٰ عنها) د ولادت او د لنګون په درد هم اخته شوه او هلک یې پیدا شو ـ په دغې توری تیاری یخنی شپې کښې هیڅری د تودیدلو اور هم نه ؤ پیدا او له چقمق (اور تک) څخه هم اور ونه لګیده ـ په دغو مصائبو او تیارو کښې یو ناڅاپه له لری څخه یو اور په نظر راغی چه هغه فی الحقیقت دنیوی اور نه ؤ ـ د الله تعالىٰ د جلال نور یا ناری حجاب ؤ (چه د هغه ذکر د مسلم په حدیث کښې راغلی دی) موسٰی علیه السلام پر ظاهری اور ګمان وکړ او بی بی صفورا رضی الله تعالىٰ عنها ته یې وویل تاسی هم دلته کینئ زه ځم څو له هغه اوره تاسی ته یوه لمبه یا سکروټه راوړم ـ یا له هغه ځایه د لیاری پته او سراغ ولګولی شم، او کوم لیاره ښوونکی هلته ومومم.

وائی څه مهال (وخت) چه حضرت موسٰی علیه السلام هغه پاک میدان ته ورسید یوه عجیبه نظاره او ننداره ئی ولیده په یوه تکه شنه ونه کښې په ډیر شدت سره اور بل دی ـ او ډیری لوئی لمبی تری پورته کیږی ـ خو په هم هغه اندازه سره چه اور پخپل شدت او جدت سره سوځی له هغه څخه زیات دغه ونه تکه شنه او ډیره ښکلی ښکاری او تولی پاڼی او څانګی ئی په ډیر لطافت او نظافت، طراوت سره ځانګی ـ او سره ښوریږی او په هره اندازه چه د دی ونی شین والی او طراوت او ښکلیتوب زیاتیږی په هم دغه اندازه دغه اور هم لا پسی شدت کوی.

موسٰی علیه السلام قصد وکړ چه دغی ونی ته نژدی شی که د دغی ونی کومه لښته یا څانګه وسوځی او لاندی ولویږی نو زه ئی واخلم ـ لیکن په هره اندازه چه موسٰی علیه السلام دغه اور ته نژدی کیده ـ په هم هغه اندازه دغه اور تری لری کیده ـ او کله چه وویرید ـ او وئی غوښت چه تری وتښتی ـ نو اور په ده پسی راته او تعاقب ئی کاوه ـ د هم دغه حیرت او دهشت په حالت کښې یو غږ پورته شو ـ چه ﴿إِنِّيٓ أَنَا۠ رَبُّكَ﴾ الآية ـ ګواکی د دغی ونی نه په دغه وقت د بیسیم تیلیفون د آلی پشان بلا تشبیه د یوه خوش آوازه سری په شان غږ پورته کیده ـ امام احمد رحمة الله علیه له وهب رضی الله تعالىٰ عنه څخه نقل کړی دی ـ کله چه موسٰی علیه السلام د ﴿يَٰمُوسَىٰٓ﴾ غږ واورید ـ نو څو ځلی یی «لبیک» وویل او عرض ئی وکړ چه «زه ستا غږ آورم او د راتګ احساس دی کوم ـ مګر نه دی وینم چه چیری ئی» وائی چه موسٰی علیه السلام له هر جهت بلکه له خپل هر ویښته څخه یی د الله تعالىٰ کلام آورېده.

إِنِّيٓ أَنَا۠ رَبُّكَ فَٱخۡلَعۡ نَعۡلَيۡكَ إِنَّكَ بِٱلۡوَادِ ٱلۡمُقَدَّسِ طُوٗى ﴿١٢﴾

بیشکه زه چه یم هم دا زه رب ستا یم پس وباسه (له دواړو پښو) پڼی خپلی بیشکه ته چه ئی په کنده پاکه د طوی کښې ئی.

**تفسير:** «طوی» د هغه میدان نوم دی ښائی چه دغه میدان لا له پخوا څخه متبرک ؤ یا اوس متبرک شوی دی. د موسیٰ علیه السلام پڼی (یا به) ناپاکی وی نو ځکه پری وویستلی شوی (یا ئی تواضعاً او ادباً) پری وویستلی باقی هغه موزی ـ ماسی ـ پڼی (څپلی) چه پاکی وی له هغو سره لمونځ کیدی شی د دی موضوع پوره مسائل دی په فقهیه ؤ کتابونو کښی وکتل شی.

وَأَنَا اخْتَرْتُكَ فَاسْتَمِعْ لِمَا يُوحَىٰ ﴿١٣﴾

او ما غوره کړی ئی ته (په رسالت) پس غوږ کیده هغه حکم ته چه وحی کیږی (تا لره).

**تفسير:** «ما غوره کړی ئی ته» یعنی په ګرد (ټول) جهان کښی می هم دا ته د نبوت رسالت او د مکالمی شرف لپاره انتخاب او غوره کړی نو ځکه هغه احکام چه ورروسته له دی نه درکول کیږی هغه په غور او دقت سره واوره او پری عمل وکړه!

إِنَّنِي أَنَا اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدْنِي وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي ﴿١٤﴾

بیشکه زه چه یم هم دا زه الله یم نشته لائق د عبادت بل هیڅوک مګر هم دا زه یم پس عبادت کوه ځما او سم دروه (اداء کوه) لمونځ دپاره د ذکر (یادونی) ځما.

**تفسير:** په دغه کښی ئی د خالص توحید او د هر قسم بدنی او مالی عبادت حکم وکړ. څرنګه چه لمونځ اهم العبادات دی د هغه ذکر په خصوصیت سره وکړی شو او په دی باندی ئی تنبیه فرمایلی ده چه د لمانځه څخه اعظم مقصود د الله تعالیٰ یادول دی ګواکی له لمانځه څخه غافلیدل. د الله تعالیٰ له یاده غافلیدل دی او د ذکر الله په متعلق ئی په بل ځای کښی فرمایلی دی ﴿وَاذْكُر رَّبَّكَ إِذَا نَسِيتَ﴾ یعنی که په هیره او خطاء سره د الله تعالیٰ له یاده غافل شی نو هر کله مو چه په یاد درشی هغه یاد کړئ! د لمانځه حکم هم هم داسی دی چه که په خپل وقت کښی د غفلت او نسیان لامله (له وجی) پاتی شی، نو هر کله مو چه په یاد درشی قضا ئی راوړئ! «**فليصلها اذا ذكرها**»

إِنَّ السَّاعَةَ آتِيَةٌ أَكَادُ أُخْفِيهَا

بیشکه قیامت راتلونکی دی زه اراده لرم د دی چه پټ کړم دغه (وقت د راتللو د قیامت)

**تفسیر:** یعنی اراده لرم چه د هغه د راتګ وقت له ګردو (تولو) څخه مخفی او پټ وساتم. تر دی که له خپل ځان څخه می هم د هغه اخفاء ممکن وی نو له خپل ځانه به می هم پټاوه ـ لیکن دغه له سره امکان نه لری وفیه من المبالغة کما فی الحدیث «**لا تعلم شماله ماتنفق یمینه**» او کما قال البرهان.

ننګ او غیرت دیر لرم مخ به ئی پټ ساتمه

کاڼه کړم تول غوروڼه ـ غږ به ئی پټ ساتمه

او که دیر زیات مصالح د هغه د اظهار باعث نه کیده ـ نو دغومره اجمالی اظهار چه کړی شوی دی، هغه به هم نه وی اظهار شوی.

لِتُجۡزٰی کُلُّ نَفۡسٍۭ بِمَا تَسۡعٰی ﴿١٥﴾

دپاره د دی چه جزا ورکړه شی هر نفس ته په هغو عملونو چه کوی ئی (له خیر او شره).

**تفسیر:** یعنی د قیامت راتګ د دی دپاره هم ضروری دی چه هر سړی ته د هغه د نیکی او بدی جزا ور ورسیږی ـ او د مطیع او عاصی په منځ کښی هیڅ قسم التباس او اشتباه نشی پاتی دغه وروسته له عبادت او توحیده، د معاد د عقیدی تعلیم وشو.

فَلَا یَصُدَّنَّکَ عَنۡهَا مَنۡ لَّا یُؤۡمِنُ بِهَا وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ فَتَرۡدٰی ﴿١٦﴾

پس نه دی بندوی نه دی منع کوی تا خامخا له دغه (ایمان راوړلو په قیامت یا له لمانځه) هغه څوک چه نه لری ایمان په هغه او متابعت کوی د خواهشو خپلو (که منع راوړی) پس ته به هلاک شی.

**تفسیر:** یعنی نه دی اړوی تا له ایمان راوړلو څخه یعنی پر قیامت باندی د ایمان راوړلو یا له لمانځه څخه ـ کله چه الله تعالیٰ موسٰی علیه السلام ته نصیحت کړی دی چه د بدانو له صحبت څخه ځان ساته! نو نورو ته لا د دغی خبری ضرورت شته چه هرومرو (خامخا) دی خپل ځان د

بدانو له مصاحبته وساتی. کذا فی الموضح غرض دا دی چه د دنیا پرست کافر چاپلوسی او زیات پوستوالی غوړ مښل او مداهنت دی نه اختیاروی! که نه اندیښنه شته چه انسان د اوچت مقام څخه لاندی ولویږی. العیاذ بالله.

وَمَا تِلْكَ بِيَمِينِكَ يَٰمُوسَىٰ ﴿١٧﴾

او څه څیز دی دغه په ښی لاس د تا کښی ای موسٰی.

**تفسیر:** له دی ځایه د رسالت د منصب تمهید شروع کیږی کله چه موسٰی علیه السلام ئی سره د معجزاتو فرعون ته لیږه ـ نو ځکه ړومبی د همسا د معجزی ذکر فرمائی ـ له دغه سؤاله چه ستا په لاس کښی څه شی دی؟ دغه غرض ؤ چه موسٰی علیه السلام د ده د همسا په حقیقت او منافع ښه خبردار او مستحضر کړی څو هغه خارق العادت شی چه وړاندی کیدونکی دی. د هغه پر اعجاز ښه قانع او په واضح او مستحکم دول (طریقه) سره اوقع فی النفس شی ـ یعنی هغه ته ښه وګوره ـ او سره لاندی باندی ئی کړه او ښه ورته ځیر شه ـ او بیا ووایه چه ځما په لاس کښی څه شی دی؟ که هم داسی بی اطلاع او خبرولو سره د ده همسا مار ګرځیده. نو امکان ؤ چه داسی یو وهم به ورته پیدا کیده چه ښائی په غلطی سره ما د همسا پر ځای بل شی اخیستی دی.

قَالَ هِيَ عَصَايَ أَتَوَكَّؤُا۟ عَلَيْهَا وَأَهُشُّ بِهَا عَلَىٰ غَنَمِى وَلِىَ فِيهَا مَـَٔارِبُ أُخْرَىٰ ﴿١٨﴾

نو وویل (موسٰی) دا همسا ځما ده چه تکیه کوم پر دی او وهم (ښندم) په دی سره (پاڼی د ونی چه تونی شی) پر ګدو ځما (چه ونی ئی خوری او پری ماړه شی او دی ما ته په دغه (همسا) کښی مطالب حوائج نور هم.

**تفسیر:** یعنی په دی کښی هیڅ شبهه نشته چه دغه هم هغه ځما د لاس لرګی دی ـ چه تل ئی په خپل لاس کښی ګرځوم ـ او پری تکیه کوم او خپلو پسو او ګدو ته پاڼی پری ښندم. دښمن او موذی ځناوران پری شرم او دفع کوم ئی ـ او نور ډیر ضروری کارونه هم پری انجاموم.

قَالَ أَلْقِهَا يَٰمُوسَىٰ ﴿١٩﴾ فَأَلْقَىٰهَا فَإِذَا هِىَ حَيَّةٌ تَسْعَىٰ ﴿٢٠﴾

(بیا) وفرمایل (الله) چه وغورځوه دغه (همسا) ای موسٰی پس وئی غورځوله دا (همسا) پس ناڅاپه دا مار ؤ ژوندی چه مندی ئی وهلی (ځغلیده).

**تفسیر:** یعنی په مجرد د دی چه همسا ئی پر ځمکه وغورځوله ـ دغه همسا د اژدها په شکل واوښته ـ چه د ډیر نری مار په شان په ډیره جلتی سره ځغلیده ـ موسٰی علیه السلام د دی یو ناڅاپه د دغه انقلابی وضعیت له لیدلو څخه د بشریت په مقتضاء وویرید.

قَالَ خُذْهَا وَلَا تَخَفْ سَنُعِيدُهَا سِيرَتَهَا الْأُولَىٰ ﴿٢١﴾

(بیا) وفرمایل (الله موسٰی ته) ونیسه دا (همسا) او مه ویریږه! ژر به وګرځوو مونږ دغه (همسا) هم هغه شکل ړومبنی خپل ته.

**تفسیر:** یعنی کله چه بیرته په لاس درشی دغه ښامار بیا هغه همسا کیږی. وائی چه اول ځلی موسٰی علیه السلام نشو کولی چه وئی نیسی ـ بالاخر ئی لاس پخپل څادر کښی وپیچه (پټ کړو) او د ښامار نیولو پسی یی ځغرد (کوشش) وکړ ـ دلته پرښتی ورته وویل ای «موسٰی علیه السلام! که پاک الله دی ونه ساتی نو دغه زړوکی به دی له دغسی لوی ښامار څخه څرنګه ساتلی شی ـ موسٰی علیه السلام وویل نه! خبره داسی نه ده ـ زه ضعیف مخلوق یم او له ضعفه پیدا شوی یم» نو بیا موسٰی علیه السلام هغه زړوکی د ښامار په خوله کښی پریښود ـ او لاس ئی پری واچاوه ـ په مجرد د دی چه لاس ئی پری ورسید ـ بیرته همسا وګرځیده.

وَاضْمُمْ يَدَكَ إِلَىٰ جَنَاحِكَ تَخْرُجْ بَيْضَاءَ مِنْ غَيْرِ سُوءٍ

او پیوست کړه (ښی) لاس خپل تخرګ (ترخ) خپل ته حال دا چه راوبه وځی تک سپین (روښانه) بی له عیبه (د برګوالی)

**تفسیر:** یعنی خپل لاس په تخرګ (ترخ) کښی ننه باسه ـ او بیا ئی له ګریوانه وباسه! نو دغه لاس به دی تک سپین او روښانه ښکاری او دغه سپین والی د برص (برګوالی) او نورو عیبو له پلوه به نه وی چه عیب وګڼل شی.

آيَةً أُخْرَىٰ ﴿٢٢﴾ لِنُرِيَكَ مِنْ آيَاتِنَا الْكُبْرَى ﴿٢٣﴾

حال دا چه دغه معجزه ده بله دپاره د دی چه وښیو تاته ځینی له هغو

معجزاتو چه ډیرې لوئي دي

**تفسیر:** یعنې د همسا او بیضاء لاس معجزې له هغو لویو ښو او معجزاتو د قدرت څخه دوه معجزې دي چه د هغو ورښودل تاسې ته منظور دي.

اِذْهَبْ اِلٰى فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ طَغٰى ﴿۲۴﴾ قَالَ رَبِّ اشْرَحْ لِيْ صَدْرِيْ ﴿۲۵﴾

لاړ شه فرعون ته (سره له دغو معجزو) بیشکه چه هغه باغي شوی دی (تجاوز ئې کړی دی له حدوده د بندګۍ) وویل (موسٰی) ای ربه زما پرانیځه ارته کړه ما لره سینه زما.

**تفسیر:** یعنې حلیم - بردبار او د حوصلې خاوند مې وګرځوی، چه د خلاف الطبع شیانو د لیدلو څخه ژر خفه نشم - او د رسالت په تبلیغ کښې له هغو مصاعبو سره چه مخامخ کیږم او هغه متاعب چه زما په مقابل کښې راځي له هغو څخه ونه ویریږم - بلکه په ارت زړه او زړه وچولي (تندي) ئې وګالم (برداشت کړم) او متحمل ئې شم.

وَيَسِّرْ لِيْٓ اَمْرِيْ ﴿۲۶﴾

او آسان کړه ماته دغه مهم امر زما (چه تبلیغ دی)

**تفسیر:** یعنې داسې وسائل او وسائط راغوند کړه چه په هغو سره دغه عظیم الشان کار راته سهل او آسان شي.

وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّنْ لِّسَانِيْ ﴿۲۷﴾ يَفْقَهُوْا قَوْلِيْ ﴿۲۸﴾

او پرانیځه غوټه له ژبې زما چه وپوهیږي خلق په خبرو زما (په وقت د تبلیغ کښې).

**تفسیر:** ژبه ئې په وړوکیتوب کښې سوځیدلې وه (چه د هغه قصه په نورو تفاسیرو کښې لیکلې شوې ده) او په صاف دول (طریقه) سره ئې خبرې نشوې کولې نو ځکه ئې دغسې دعاء وکړله.

وَاجْعَلْ لِّيْ وَزِيْرًا مِّنْ اَهْلِيْ ﴿۲۹﴾ هٰرُوْنَ اَخِي ﴿۳۰﴾

او وګرځوه ماته يو وزير (مرستی «مددګار») له اهله ځما هارون (چه دی) ورور ځما

**تفسير:** هارون عليه السلام په عمر کښی له حضرت موسٰی عليه السلام څخه لوی وو.

اشْدُدْ بِهٖٓ اَزْرِيْ ﴿٣١﴾ وَاَشْرِكْهُ فِيْٓ اَمْرِيْ ﴿٣٢﴾

قوی کړه په ده سره ملا ځما او شريک کړه دغه (هارون له ماسره) په دی کار ځما کښی.

**تفسير:** يعنی د دعوت او تبليغ په کارونو کښی يو د بل سره معين مددګار ـ ملا تړی او مرستی (مدد) اوسو.

كَيْ نُسَبِّحَكَ كَثِيْرًا ﴿٣٣﴾ وَّنَذْكُرَكَ كَثِيْرًا ﴿٣٤﴾

دپاره د دی چه تسبيح ووايو ستا (تسبيح ديره) او يادوو تا په ذکر ثناء ديره

**تفسير:** يعنی دواړه سره يو ځای شو، د دعوت او تبليغ په مواقعو کښی په ډير زور او شور سره ستا پاکی او کمالات بيان کړو ـ او د دعوت له مواضعو څخه قطع نظر کله چه مونږ هر يوه ته د بل د ملګرتيا قلبی تقويه او د زړه ډادينه حاصله وی نو په خپلو کورونو او ځايونو کښی به په نشاط او طمانيت سره ستا ذکر (او عبادت) په کثرت سره کوو.

اِنَّكَ كُنْتَ بِنَا بَصِيْرًا ﴿٣٥﴾

بيشکه ته چه ئی ئی ته په (احوالو) زمونږ ښه خبردار ليدونکی ئی.

**تفسير:** يعنی ځمونږ ګرد (تول) احوال ته په ښه شان سره ګوری او دغه دعاوی چه زه کوم هم درته ښی معلومی دی، چه د هغو مقبوليت تر کوم ځای پوری به مفيد وی؟ که ته ځمونږ پر حال او استعداد په ښه شان سره نه وی خبر نو د نبوت او رسالت دپاره به دی مونږ ولی غوره کړی وی؟ او د يوه سخت دښمن په لوری به دی ولی ليږلو؟ يقيناً دغه کار چه تا کړی ډير مناسب او په ځای او مطابقاً للحال دی فرمايلی دی.

قَالَ قَدْ أُوتِيتَ سُؤْلَكَ يَا مُوسَىٰ ﴿٣٦﴾

وفرمایل الله په تحقیق درکړی شوی تاته سؤال د تا ای موسٰی.

**تفسیر:** یعنی کوم شیان چه تاسی وغوښتل د الله تعالیٰ له لوری تاسی ته درکړل شول.

وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَيْكَ مَرَّةً أُخْرَىٰ ﴿٣٧﴾

او خامخا په تحقیق احسان کړی ؤ مونږ پر تا یو کرت بل (پخوا له دی نه)

**تفسیر:** یعنی مونږ خو یو ځلی بی غوښتلو پر تا لوی احسان کړی دی ـ نو اوس که یو مناسب شی له مونږ څخه وغواړی ولی به ئی نه درکوو.

إِذْ أَوْحَيْنَا إِلَىٰ أُمِّكَ مَا يُوحَىٰ ﴿٣٨﴾

کله چه وحی کړی وه مونږ مور ستا ته (الهاماً یا په خوب کښی) دغه چه اوس اوراوه شی.

**تفسیر:** یعنی په خوب یا ویښتیا او بیداری کښی. د الهام په دول (طریقه) یا په هم هغه وقت کښی د کوم مجهول الاسم نبی په ژبه ستا مور ته هغه حکم مو درلیږلی ؤ چه د هغه لیږل مناسب ؤ (د دی تفصیل څلور سطره لاندی په ﴿ أَنِ اقْذِفِيهِ ﴾ الآیة - کښی مذکور دی).
**تنبیه:** د «ایحاء» له لفظه د موسٰی علیه السلام د مور نبوت نه ثابتیږی لکه چه د پاس تقریر څخه ظاهر دی ځکه چه نبی هغه دی چه د الله تعالیٰ له طرفه ورته د احکامو وحی راشی او د هغه په تبلیغ مامور وی ـ او دلته دغه تعریف نه صادقیږی.

أَنِ اقْذِفِيهِ فِي التَّابُوتِ فَاقْذِفِيهِ فِي الْيَمِّ فَلْيُلْقِهِ الْيَمُّ بِالسَّاحِلِ يَأْخُذْهُ عَدُوٌّ لِّي وَعَدُوٌّ لَّهُ ۚ

چه وغورځوه دغه (موسٰی) په تابوت (صندوق) کښی (پس بیا) وغورځوه دغه

(تابوت) په سيند کښې پس ودی غورځوی هغه صندوق لره سيند په ساحل (غاړه خپل کښې چه) ونيسى دغه (موسىٰ) دشمن ځما او دشمن د ده.

**تفسير:** يعنى موسىٰ عليه السلام ئى (چه په دغه وقت کښې نوى ځيږيدلى هلکى ؤ) په صندوق کښې واچاوه ! هغه صندوق ئى په سيند کښې خوشى کړ ! پر سيند باندى مونږ داسې يو حکم صادر کړى دى چه دى دى په ډير حفاظت سره پر کومه وچه وباسى ـ او هلته به دى داسې يو سرى راپورته کوى چه هم به ځما دشمن وى او هم به د دى هلک. واقعه دا ده چه د منجمانو په وينا په دغه کال کښې فرعون ګرد (تول) هلکان به سره تولول او له يو سره به ئى وژل کله چه موسىٰ عليه السلام پيدا شو د ده والده ووېريده چه که د فرعون سرى خبر شى نو دغه ځما هلک به هم ووژنى او د ده مور او پلار ته به هم ډېر (زحمت) او تکليف ورپيښوى چه دغه مو ولى راښکاره نه کړ ـ نو په دغه وقت کښې د الله تعالىٰ له طرفه دغه تدبير ورالهام شو او د موسىٰ عليه السلام والدى دى په يو سر تړلى صندوق کښې په سيند کښې لاهو کړ ـ له دغه سيند ځخه يوه وياله د فرعون باغ ته تللى وه نو دغه صندوق په دغه وياله کښې راغلى په وچه کښې ونښت يا د فرعون د باغ په حوض کښې ودريد ـ د فرعون ښځه (بى بى آسيه رضى الله تعالىٰ عنها) چه يوه ډيره عفيفه عابده اسرآئيلى ميرمن وه له دغه صندوق ځخه دغه هلک وويست ـ او د فرعون مخ ته ئى وروړاندى کړ او ورته وى ويل راځه چه دغه ماشوم مونږ د خپل ځوى پشان وروزو (وپالو) فرعون هم د دى هلک د ليدلو ځخه خوښ شو او مينه ئى پرى راغله ـ مګر د ده د ځوى ګرځولو ځنى ئى انکار وکړ ـ (لکه چه په ځينو رواياتو کښې راغلى دى) مګر د بى بى آسيى رضى الله تعالىٰ عنها له خاطره به ئى د خپل ځوى په شان د هغه روزنه (پالنه) کوله او په دى شان د الله تعالىٰ د عجيب او غريب قدرت ظهور په عمل راغى.

**تنبيه:** فرعون ته ئى د الله تعالىٰ دشمن ځکه وويل چه دى د حق دشمن ؤ ـ او د الله تعالىٰ په مقابل کښې يى د الوهيت دعوى کوله ـ او د موسىٰ عليه السلام دشمن ئى ځکه وويل چه ده فى الحال د ګردو (تولو) اسرآئيلى هلکانو سره ئى سخته دشمنى کوله ـ او په مستقبل کښې خاص له موسىٰ عليه السلام سره په علانيه دول (طريقه) سره د دشمنى اظهار کوونکى ؤ.

وَأَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّي ۚ

او اچولى مى ؤ پر تا محبت مينه له طرفه ځما (چه ګرد (تول) خلق پر تا مين شول).

**تفسير:** يعنى مونږ له خپل لورى په دغه وقت کښې د مخلوق په زړه کښې ستا محبت وغورځاوه چه هر ليدونکى به له تا سره مينه او محبت وکړى. يا يو خاص محبت مو پر تا وغورځاوه چه ته

د الله تعالیٰ محبوب وګرځیدی ـ نو له هر چا سره چه پاک الله محبت وکړی بندګان هم له هغه سره مینه او محبت کړی.

وَلِتُصْنَعَ عَلٰى عَيْنِيْ ﴿٣٩﴾

او (ومی کړه دغه کارونه) چه تربیت ستا وشی په لیدلو ځما سره.

**تفسیر:** یعنی د خلقو په زړونو کښې ستا د محبت غورځولو څخه دغه غرض ؤ چه ځمونږ تر کتنې او نګرانی او حفاظت لاندی ستا روزنه او پالنه وکړه شی ـ او د داسی سخت دښمن په کور کښې سره له دی چه شپی او ورځې دی تیرولی ـ خو بیا ستا یوه ویښته ته څه ضرر او زیان ونه رسیږی.

اِذْ تَمْشِيْٓ اُخْتُكَ فَتَقُوْلُ هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰى مَنْ يَّكْفُلُهٗ ؕ فَرَجَعْنٰكَ اِلٰٓى اُمِّكَ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ ؕ

کله چه تله خور د تا (لپاره د پلټنې (حالت پته کولو) ستا، نو ئی ولیدی چه د هیچا تی نه نیسی) پس وی ویل آیا دلالت وکړم زه تاسی ته په هغه چا چه تربیت وکړی د ده (نو قبول شو قول د دی او مور ئی راوسته او تی یی ونیوه پس بیرته راوستی مونږ ته مور خپلی ته دپاره د دی چه یخی (رڼی) شی سترګی د دی (او خوشاله شی په لیدلو د تا) او خفه نشی.

**تفسیر:** پوره قصه به په بل ځای کښې راځی. د حضرت موسیٰ علیه السلام مور وروسته له هغه چه صندوق ئی په سیند کښې وغورځاوه د بشریت په مقتضاء سخته خپه او پریشانه شوه او په دغه اندیښنه کښې دوبه تللی وه چه د دی د ځوی به څه حال شوی وی؟ نه ورته معلومه وه چه ژوندی دی؟ یا د کوم ځناور خوراک شوی دی؟ نو د حضرت موسیٰ علیه السلام خور ته ئی وویل «ای لوری! ته په پته سره خپل ورور دی ولټوه! او د ده د حال او احوال په تحقیق کښې اوسه! د بل لوری د الله تعالیٰ په مشیت دغسی سامان مهیا شو چه حضرت موسیٰ علیه السلام د هیڅ یوی ښځی تی به ئی په خوله کښې نه اخیست نو ځکه ډیری ښځې راغلی او بیرته لاړلی. د موسیٰ علیه السلام خور (بي‌بي مریمی) چه د ده په تکل کښې وه (بي‌بي آسیی رضی الله تعالیٰ عنها) ته ئی وویل «که مو امر او اجازه وی ـ نو زه به یوه ډیره ښه ښځه تاسی ته راولم چه دغه هلک د هغې تی واخلی یا هغه داسی دارو او درمان وکړی چه دغه هلک څه شی وخوری او له لوږی

ځخه ورته څه زیان او ضرر ونه رسیږي او په ښه شان سره ئې وروزي او پالنه ئې وکړي» پرې حکم وشو چه هله ژر شه! او ژر ئې راوله! دا لاړه او د موسٰی علیه السلام مور ئې ورته راوسته او هغه ئې په الله او بسم الله سره خپل تی ته واچاوه ـ او ده د هغې تی واخیست ـ او په غرګهار سره ئې په تی رودلو باندې شروع وکړه ـ د فرعون په کور کښې ډیره خوښي او خوشالي پیدا شوه ـ او ګرد (تول) د دغه هلک د موندلو څخه په خپلو کالیو (جامو) کښې نه ځائیدل ـ د موسٰی علیه السلام مور وویل چه زه دلته نشم پاتې کیدې که ماته اجازه راکړه شي چه دغه هلک له خپله ځانه سره کور ته یوسم او په پوره حفاظت او اهتمام سره ئې روزنه او پالنه وکړم ـ بالاخر د فرعون له طرفه د دائي په توګه (طور) د دغه هلک په تربیت ماموره شوه او دی ئې بیرته خپل کور ته راؤست ـ او د پاچاهي په اعزاز او اکرام سره د ده په تربیت کښې ئې لاس پورې کړ.

وَقَتَلْتَ نَفْسًا فَنَجَّيْنٰكَ مِنَ الْغَمِّ

او مړ کړی ؤ تا یو (قبطی) سړی پس نجات مو درکړ تاته له غمه (د قصاص او عقاب)

**تفسیر:** دغه پورته قصه د القصص په سورت کښې راځي ـ خلاصه ئې دا چه د ځلمیتوب په وخت کښې د موسٰی علیه السلام له لاسه یو قبطي وژلی شوی ؤ ـ موسٰی علیه السلام وویرید چه د ده په قصاص کښې هم په دنیا او هم په عقبٰی کښې زه مأخوذ کیږم ـ نو پاک الله ده ته له دغو دواړو اقسامو پریشانیو څخه نجات ورکړ. د اخروی پریشانی څخه په دی دول (طریقه) چه د توبې توفیق ئې وروبانبه چه قبوله هم شوه ـ او له دنیوی څخه په دی دول (طریقه) چه موسٰی علیه السلام ئې له مصر وویست او مدین ته ئې ورساوه چه هلته د حضرت شعیب علیه السلام له لور سره د ده نکاح وتړله شوه. پوره قصه ئې په بل ځای کښې راځي.

وَفَتَنّٰكَ فُتُونًا ۚ

او ومې ازمویلې ته (په قسما قسم) ازموینې سره.

**تفسیر:** یعنې ستا امتحان د الله تعالٰی له طرفه په څو څو ځایونو کښې واخیست شو او ته په کښې بریالی (کامیاب) ثابت شوې.
**تنبیه:** مفسرینو په دغه موقع کښې د حدیث الفتون په عنوان د ابن عباس رضی الله تعالٰی عنه یو نهایت طویل روایت نقل کړی دی چه د هغه په متعلق د حافظ ابن کثیر رحمة الله علیه الفاظ دا دی «**وهو موقوف من کلام ابن عباس ولیس فیه مرفوع الا قلیل منه وکانه تلقاه**

ابن عباس رضی الله عنه مما ابیح نقله من الاسرائیلیات من کعب الاحبار وغیره والله اعلم وسمعت شیخنا الحافظ ابا الحجاج المزی یقول ذلک ایضا»

فَلَبِثْتَ سِنِيْنَ فِىْٓ اَهْلِ مَدْيَنَ ۙ ثُمَّ جِئْتَ عَلٰى قَدَرٍ يّٰمُوْسٰى ﴿٤٠﴾

پس واوسیدی ته څو کاله په اهل د مدین کښی بیا راغلی ته (اوس دلته) پر هغه مقدار (د عمر چه ما اندازه کړی ؤ او د رسالت لائق دی) ای موسٰی

**تفسیر:** یعنی اوس د مدین د راوتلو په وقت کښی لیاره دی غلطه کره ـ او له تقدیره دلته ورسیدی چه د دی ځای وهم او ګمان هم ستا په فکر کښی نه ؤ.

له موسٰی نه کړی پوښتنه د الله د لطف احوال
ځی دی اور پسی الله ئی رسالت ښښی جلال

وَاصْطَنَعْتُكَ لِنَفْسِىْ ۚ ﴿٤١﴾

او جوړ کړی (غوره کړی) ئی ماته دپاره د ځان خپل (په رسالت)

**تفسیر:** یعنی د خپلی وحی او رسالت دپاره ئی تیار ـ او په خپلو خواصو او مقربینو کښی ئی داخل کړی او څرنګه ئی چه اراده وه ستا روزنه (پالنه) ئی وفرمایله.

اِذْهَبْ اَنْتَ وَاَخُوْكَ بِاٰيٰتِىْ وَلَا تَنِيَا فِىْ ذِكْرِىْ ۚ ﴿٤٢﴾

لاړ شه ته (ای موسٰی) او ورور د تا په معجزو ځما سره او سستی مه کوئ په یاد ځما کښی.

**تفسیر:** یعنی د هغه کار دپاره چه ته جوړ کړی شوی ئی اوس ئی وقت راغلی دی چه ته له خپل ورور هارون علیه السلام سره د هغه دپاره ولاړ او تیار شئ! او هغه دلائل او معجزات چه تاسی ته درکړی شوی دی د ضرورت په وقت کښی ئی ظاهر کړی ـ کله چه موسٰی علیه السلام پخوا له دی نه د دعاء کولو په وقت کښی ویلی ؤ ـ ﴿ كَىْ نُسَبِّحَكَ كَثِيْرًا وَّنَذْكُرَكَ كَثِيْرًا ﴾ نو ځکه ئی دلته په ﴿ وَلَا تَنِيَا فِىْ ذِكْرِىْ ﴾ په ویلو سره د هغه تذکره وفرمایله یعنی د الله تعالیٰ د نامه په تبلیغ کښی په پوره مستعدی او فعالیت سره کار وکړئ! او په تمامو احوالو او اوقاتو

کښې عموماً او د دعوت او تبليغ په وقت کښې خصوصاً پاک الله په کثرت سره يادوئ ـ چه دغه ذکر الله د اهل الله دپاره د برى او کاميابۍ لويه وسيله او د دښمن په مقابل کښې مهمه وسله ده

اِذْهَبَآ اِلٰى فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ طَغٰى ﴿٤٣﴾

لاړ شئ (تاسې دواړه) فرعون ته بيشکه چه دى باغي شوى دى په دعوى د الوهيت سره

**تفسير:** پخوا ئې د ورتګ حکم ورکړى ؤ ـ اوس ئې مقابل ورښود چه چيرى؟ او چاته ورتګ دى؟ او دغه جمله د مخ کښې راتلونکي جملې تمهيد دى.

فَقُوْلَا لَهٗ قَوْلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهٗ يَتَذَكَّرُ اَوْ يَخْشٰى ﴿٤٤﴾

پس ووايئ ده ته خبره پسته ښائيږى چه دى پند واخلي (که ستا رسالت ورته محقق شي) يا وويريږى (له الله که متوهم شي)

**تفسير:** يعنى د دعوت او تبليغ او وعظ او نصيحت په وقت کښې ـ پستي آسانه ـ رقت راوړونکي ـ جګې جګې خبرى وکړه ـ اګر که د ده د تمرد او طغيان لامله (له وجې) د قبول هيله (ارزو) او اميد نشته خو بيا هم تاسې داسې خيال وکړئ ممکن دى چه هغه له فکره او غور څخه کار واخلي ـ او دغه پند او نصائح پرى اثر وغورځوى يا د الله تعالىٰ د جلال او جبروت د آوريدلو څخه وويريږى ـ او د طاعت او انابت په لورى متمائل شي ـ او په خبرو او اترو کښې ډيره نرمي وکړى ـ له دى توصيې څخه د دعاتو او مبلغينو دپاره دير لوى دستورالعمل په لاس راځي لکه چه کښې داسې صاف ارشاد شوى دى ﴿ اُدْعُ اِلٰى سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِىْ هِىَ اَحْسَنُ ﴾ جزء ١٤ د النحل په (١٢٥) آيت (١٦) رکوع

قَالَا رَبَّنَآ اِنَّنَا نَخَافُ اَنْ يَّفْرُطَ عَلَيْنَآ اَوْ اَنْ يَّطْغٰى ﴿٤٥﴾

وويل (دواړو ورونو) اى ربه څمونږ بيشکه مونږ ويريږو چه تلوار به وکړى پر مونږ (په عقوبت سره) يا به لا نافرمان شي (چه ستا په نسبت به بدى خبرى وکړى).

**تفسير:** يعني د هغه د ويريدلو انديښنه به خو وروسته له دی نه وی - سم د لاسه پر خپل دغه بی سرو سامانی او د فرعون هغه جاه وجلال ته چه ګورو نو ويرېږو چه هغه ځمونږ د داسی خبری د آوريدلو دپاره به له سره تيار او آماده هم نه وی - او که آماده وی ممکن دی چه ځمونږ د پوره خبری د آوريدلو نه پخوا په چټی ؤ (فضولو) خبرو باندی خوله وسپړی - يا ځمونږ د خبرو له آوريدلو څخه وروسته سخت په قهر او غصه شی - او ستا په شان کښی به زيات سپين سترګی او ګستاخی وکړی - يا پر مونږ باندی لاس وغځوی چه به دغو ګردو (تولو) احتمالاتو کښی اصلی مقصد له لاسه وځی.

**تنبيه:** د موسٰی عليه السلام د دی خوف او د شرح الصدر په منځ کښی هيڅ سره منافات نشته کاملين د بلاء له نزوله پخوا ويريږی - او استعاذه کوی ليکن څه مهال (وخت) چه په بلاء کښی مبتلا شی- نو په پوره صبر - استقامت - حوصله - ثبات او پراخ تتر سره د هغه مقابله کوی.

قَالَ لَا تَخَافَآ إِنَّنِي مَعَكُمَآ أَسْمَعُ وَأَرَىٰ ﴿٤٦﴾

وفرمايل (الله) مه ويريږئ (تاسی دواړه). بيشکه زه له تاسی سره يم (په معاونت او نصرت) آورم او وينم (په ښه شان سره ستاسی اقوال او افعال هم)

**تفسير:** يعني هغه خبری چه ستاسی او د ده په منځ کښی کيږی - يا هغه معاملات چه در وړاندی کيږی - هغه ګرد (تول) زه آورم او وينم ئی - زه هيڅ له ستاسی نه يم جلا (جدا) او تل ځما نصرت او حمايت له تاسی سره دی - خوف او ويره هيڅ مورد نه لری - او نه ښائی چه تاسی په دغه فکر کښی واوسی.

فَأْتِيَاهُ فَقُولَآ إِنَّا رَسُولَا رَبِّكَ فَأَرْسِلْ مَعَنَا بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ وَلَا تُعَذِّبْهُمْ

پس ورشئ (تاسی دواړه) ده ته پس ووائی چه بيشکه مونږ يو رسولان د رب ستا نو وليږه (ای فرعونه) له مونږ سره بنی اسرآئيل (اولاده د يعقوب) او مه په عذابوه دوی (په سختو سختو تکاليفو سره)

**تفسير:** په دغه کښی د دری شيانو په طرف دعوت ورکړی شوی دی
(١): د فرعون او د نورو مخلوقاتو کوم رب شته چه رسول ئی راليږلی دی.
(٢): مونږ دواړه د هغه رسولان يو - لهٰذا ځمونږ اطاعت او د رب العزت عبادت ښائی چه وکړی شی ګواکی په دغه جمله سره د ايمان د اصل په لوری دعوت ورکړی شوی دی - هم دغه ئی په «والنازعات» (ديرشم جزء کښی) داسی ادا کړی دی« ﴿ فَقُلْ هَلْ لَكَ إِلَىٰٓ أَنْ تَزَكَّىٰ ﴾

﴿ وَأَهْدِيَكَ إِلَىٰ رَبِّكَ فَتَخْشَىٰ ﴾
(٣): هغه شي دي چه د هغه ضرورت په هغه خاص وقت کښې واقع شو - يعني د بني اسرائيلو نجات د فرعونيانو د ذلت او رقت راوړونکې غلامۍ څخه. مطلب ئې دا دی چه پر دغی شريفې او نجيب الاصلی کورنی ظلم او ستم مه کوئ! او د دغه ډير ذليل او حقير مرئيتوبه ئې آزاد او خپلواک کړئ - او له مونږ سره ئې پريږدئ چه هر چيری مو چه زړه غواړی لاړ شو او په آزادی سره شپې او ورځې تيری کړو.

قَدْ جِئْنَاكَ بِآيَةٍ مِّن رَّبِّكَ

په تحقيق راغلي يو مونږ تاته سره له معجزی له جانبه د رب ستا؛

**تفسير:** يعني ځمونږ دغه د رسالت دعوی بی دليله نه ده - بلکه پر خپل صداقت د الله تعالیٰ د قدرت معجزی او دلائل هم راسره شته.

وَالسَّلَامُ عَلَىٰ مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَىٰ ﴿٤٧﴾ إِنَّا قَدْ أُوحِيَ إِلَيْنَا أَنَّ الْعَذَابَ عَلَىٰ مَن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿٤٨﴾

او سلامتي ده (له عذابه) په هغه چا چه متابعت وکړی د سمی صافی لياری. بيشکه مونږ چه يو په تحقيق وحی کړی شوی ده مونږ ته چه بيشکه عذاب په هغه چا دی چه تکذيب کوی (د رسولانو) او مخ ګرځوی (له اسلامه).

**تفسير:** يعني هر څوک چه ځمونږ خبره ومنی او پر سمه او صافه لياره لاړ شي - نو د هغه دپاره د دواړو دارينو سعادت او سلامت ور په برخه کيږی. او هر څوک چه تکذيب او اعراض کوی نو د هغه دپاره عذاب يقيني دی - اعم له دی نه چه يوازی اخروی عذاب وی يا په دنيا کښې هم ورته ورسيږی. ښائی چه اوس تاسی د خپل آخرت په فکر کښې شئ او هره لياره مو چه خوښه وی هم هغه ځان ته غوره کړئ.

کله چه راغلل دوی فرعون ته او د رب العالمين پيغام ئې ورساوه

قَالَ فَمَن رَّبُّكُمَا يَا مُوسَىٰ ﴿٤٩﴾

نو وویل (فرعون) پس څوک دی رب ستاسی ای موسٰی

**تفسیر:** یعنی تاسی چه خپل ځان د هغه رب استاځی راښیئ هغه څوک دی؟ او څرنګه دی؟ ـ له دی نه معلومیږی چه د فرعون د عقیدی میلان د دهریت په لوری ؤ ـ یا به ئی دغه سؤال یواځی د ربړولو (تکلیف ورکولو) دپاره کړی وی.

قَالَ رَبُّنَا الَّذِیْٓ اَعْطٰی كُلَّ شَیْءٍ خَلْقَهٗ ثُمَّ هَدٰی ۝

وویل موسٰی رب زمونږ هغه ذات دی چه ورکړی ئی دی هر څیز ته (له مخلوقاتو) صورت شکل د ده (موافق د کماله د ده سره) بیا ئی لیاره هم ورښوولی ده (د ګذران).

**تفسیر:** یعنی هر شی ته ئی سم د هغه له استعداد سره شکل ـ صورت ـ قوی ـ خواص او نور عنایت فرمایلی دی ـ او د حکمت له کمال ئی هم هغسی جوړ کړی دی چه هغه لره لازم ؤ ـ بیا په مخلوقاتو کښی د هر یو د وجود او بقاء دپاره هر هغه سامان چه ضرورت ؤ ـ هغه یی ورمهیاء کړی دی او هر څیز ته ئی له خپلی مادی ساخت او روحانی قوتونو ـ او خارجی سامانونو څخه د کار اخیستلو لیاره ورښوولی ده ـ بیا داسی یو تینګ نظام ئی راښوولی ـ مونږ ته ئی هم هدایت راکړی دی چه د دغو مصنوعاتو له وجوده د صانع پر وجود څرنګه استدلال وکړو **فلله الحمد والمنة**

حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «یعنی د خوړلو او څښلو شعور ئی پیدا کړ که وړوکی ته الله تعالیٰ تی رودل ونه ښیی نو څوک ئی ورښوولی شی؟»

قَالَ فَمَا بَالُ الْقُرُوْنِ الْاُوْلٰی ۝ قَالَ عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّیْ فِیْ كِتٰبٍ ۚ لَا یَضِلُّ رَبِّیْ وَلَا یَنْسَی ۝

وویل (فرعون) پس څه ؤ (حال) د خلقو پخوانیو. وویل (موسٰی) چه علم د هغوی په نزد د رب زما دی په کتاب (لوح محفوظ) کښی (لیکلی دی) چه نه ئی ورک کوی رب زما او نه ئی هیروی (هیڅ څیز)

**تفسیر:** یعنی «که د الله تعالیٰ پر وجود باندی داسی روښان دلائل قائم شوی دی او د هغه په

طرف چه ته دعوت ورکوی حق دی نو د تیرو اقوامو په متعلق څه بیان وکړه چه آخر له دوی څخنی دیر کسان سره د داسی واضحو او روښانو دلائلو له موجودیته ولی له حق څخه غاړه وغړوله ـ او قبول ئی نه کړل؟ آیا پر هغو گردو (تولو) باندی ئی عذاب نازل کړ او تباه شول؟ که ته نبی ئی نو د گردو (تولو) اقوامو تفصیلی حالات ښائی تاته هرومرو (خامخا) معلوم وی» دغه گرد (تول) لا یعنی او لری له مقصده خبرو باندی څکه د فرعون خوله وسپړیده چه د حضرت موسٰی علیه السلام د هدایت مضامین په داسی فضولو او چتی (بیکاره) خبرو سره مخلوط کړی ـ حضرت موسٰی علیه السلام وفرمایل چه انبیاؤ ته د گردو (تولو) شیانو تفصیلی علم لرل ضروری نه دی د هر قوم د تفصیلی حالاتو څخه اطلاع او علم یواځی د الله تعالیٰ کار دی چه د څینو مخفی مصالحو په بناء هغه ئی په کتاب (لوح محفوظ) کښی هم لیکلی دی. د الله تعالیٰ د محیط علم څخه یو شی نه ابتداء غائب کیدی شی او نه په علم کښی راغلی څیز د یوی شیبی دپاره هم هیریدی شی پر هغه اعمال د هر قوم په هر وقت کښی چه کړی ئی وی د هغو گردو (تولو) د یوی یوی ذری لیکلی شوی حساب شته چه په هر یوه لازمو اوقاتو کښی ئی ښکارولی شی.

---

الَّذِیۡ جَعَلَ لَکُمُ الۡاَرۡضَ مَهۡدًا وَّسَلَکَ لَکُمۡ فِیۡهَا سُبُلًا

---

هغه الله چه گرځولی ئی ده تاسی ته ځمکه فرش (غوړیدلی) او روانی کړی ئی دی تاسی ته په دی کښی لیاری.

---

**تفسیر:** یعنی د وادیو ـ سیندونو ـ او غرونو له منځه ئی پر ځمکه لیاری جوړی کړی او له یوه ځایه بل ځای ته ئی بیولی او نښلولی دی چه پر هغو له ورتګه له یوه ملکه بل ملک ته رسیدی شی.

---

وَّ اَنۡزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ؕ فَاَخۡرَجۡنَا بِهٖۤ اَزۡوَاجًا مِّنۡ نَّبَاتٍ شَتّٰی ﴿۵۳﴾

---

او نازلی کړی دی مونږ (له طرفه) د آسمانه اوبه؛ پس راباسو مونږ په دی (اوبو) سره هر هر قسم له گیاو (شنیلیو) څخه رنگ په رنگ.

---

**تفسیر:** یعنی د اوبو په ذریعه الله تعالیٰ راز راز (قسم قسم) شنیلی ـ او ترکودی (نباتات) میوی دانی غلی او نور ئی پیدا کړی دی.

---

کُلُوۡا وَارۡعَوۡا اَنۡعَامَکُمۡ ؕ

وخورئ تاسی تری او څروئ (پکښی) چارپایان خپل؛

**تفسیر:** یعنی ښی او عمده غذاوی تاسی خورئ ـ او هغه شیان چه ستاسی نه په کارېږی هغه پر خپلو چارپایانو خوروئ چه د هغوی په محنت او زیار (کوشش) ایستلو سره علی الاکثر دغه پیداوار حاصلیږی.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِأُولِي النُّهَىٰ ﴿٥٤﴾

بیشکه په دی (مذکورو شیانو کښی) خامخا (د قدرت ډیر) دلائل دی دپاره د خاوندانو د عقل.

**تفسیر:** دپاره د خاوندانو د عقل ئی ځکه وفرمایل څو د دهریانو سترګی خلاصی شی یعنی د ده تدابیرو او قدرتونو ته وګورئ که تاسی عقل لرئ نو وبه پوهیږئ چه په هغو سره د باری تعالیٰ وجود او د توحید په لوری توجه ورکړی شوی ده اوس په دغه مبارک آیت کښی د «معاد» ذکر دی.

مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَىٰ ﴿٥٥﴾

(خاص) له دی (ځمکی څخه) پیدا کړی یئ مونږ تاسی (په ژوندون سره) او په هم دی ځمکی کښی ننه باسو تاسی (په مرګ سره) او له دی (ځمکی) څخه راباسو تاسی کرت بل (دوهم ځلی په بعث بعد الموت سره).

**تفسیر:** د ګردو (ټولو) پلار آدم علیه السلام له خاورو څخه پیدا کړی شوی دی. بیا په هغو اغذیه ؤ (خوراکو) سره چه د انسان د بدن روزنه (تربیت) کیږی هغه هم له خاورو څخه وځی ـ وروسته له مرګه هم په عمومی ډول (طریقه) ګرد (ټول) انسانان وړاندی یا وروسته له خاورو سره ګډیږی. هم داسی د قیامت په وقت کښی هم دغه اجزاء چه له خاورو سره ګډود شوی وی بیا سره ټولیږی او بیا له سره پیدا کیږی او هغه مړی چه په قبرونو کښی خښ وی بیا ژوندی تری راپورته کیږی.

وَلَقَدۡ أَرَيۡنَٰهُ ءَايَٰتِنَا كُلَّهَا فَكَذَّبَ وَأَبَىٰ ﴿٥٦﴾

او خامخا په تحقيق ورښوولي (ورپيژندلي) وې مونږ دغه (فرعون لره) معجزې (د قدرت خپلې) ټولې (د فرعون له حاله سره مناسبې) نو تکذيب ئې وکړ (د معجزو) او منع ئې راوړله (له ايمانه په هغو باندې)

**تفسير:** يعنې د هغو آيتونو ورښودل چه منظور ؤ هغه ګرد (ټول) ئې ورووښوول. مثلاً د عصاء القاء يدالبيضاء او نور سره له خپلو متعلقاتو سره له تفصيل ـ
خو سره له هغه هم دغه بدبخت فرعون حق ونه مانه او هم هغسې پر خپل انکار، جحود او تکذيب ټينګ ولاړ ؤ.

قَالَ أَجِئۡتَنَا لِتُخۡرِجَنَا مِنۡ أَرۡضِنَا بِسِحۡرِكَ يَٰمُوسَىٰ ﴿٥٧﴾

وويل (فرعون) آيا راغلى ئې ته مونږ ته دپاره د دې چه وباسې مونږ له ځمکې ځمونږ په سحر خپل اى موسٰى

**تفسير:** دغه خبره ئې خپل قوم قبطيانو ته ځکه وويله څو هغوى ته د موسٰى عليه السلام په مقابل کښې نفرت او اشتعال ورکړى يعنې د موسٰى عليه السلام غرض او مقصد دا دى چه د جادو په زور مونږ د دې ملک څخه وشړي ـ او د کوډګرى په داسې ننداري د عوامو جميعت له خپله ځانه سره ملګرى کړي ـ او په دغه چل د قبطيانو پر ګردو (ټولو) املاکو او اموالو قابض شي.

فَلَنَأۡتِيَنَّكَ بِسِحۡرٖ مِّثۡلِهِۦ فَٱجۡعَلۡ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكَ
مَوۡعِدٗا لَّا نُخۡلِفُهُۥ نَحۡنُ وَلَآ أَنتَ مَكَانٗا سُوٗى ﴿٥٨﴾

پس خامخا رابه وړو هرومرو (خامخا) تاته سحر پشان د دې سحر پس مقرر کړه په منځ ځمونږ او په منځ د تا کښې يوه وعده چه نه به کوو مخالفت له هغه مونږ او نه ته (او وګرځوه ځاى د وعدې) يو ځاى هوار (متوسط په منځ د طرفينو کښې).

**تفسیر:** یعنی ته پخپله په دغه اراده کښی له سره نشی کامیابیدی له مونږ سره دیر لوی لوی کودګران شته ښه خو به دا وی چه ته له هغوی سره مقابله وکړی ـ پس په هره ورځ او هر ځای کښی چه ته له هغوی سره مقابله کول غواړی د هغه د تعیین اختیار تاته (درکاوه کیږی) او دا ضروری ده هر هغه وقت چه معین کیږی ښائی چه له هغه څخه هیڅوک ځان ونه کاږی ـ او داسی ځای دی وټاکل شی چه هلته د دواړو طرفینو دپاره یو شان سهولت حاصل وی. او په منځ کښی واقع وی او په کیناستلو کښی د راعی او رعایا او حاکم او محکوم او د وړوکی او د لوی هیڅ فرق او توپیر (تفاوت) سره نه وی ـ او هره یوه دله په دیره آزادی او خپلواکی سره د خپل قوت او قدرت مظاهره پکښی وکړی شی. او میدان هم خلاص ـ ارت ـ صاف او هوار وی؛ څو ګرد (تول) کتونکی هر شی بی تکلفه ولیدی شی او تول مشاهدات په ښه دول (طریقه) سره وکړی شی.

قَالَ مَوْعِدُكُمْ يَوْمُ الزِّينَةِ وَأَن يُحْشَرَ النَّاسُ ضُحًى ﴿٥٩﴾

وویل (موسٰی) وقت د وعدی د تاسی ورځ د جشن (د قبطیانو) ده او دا چه راتول به کړل شی خلق په وقت د څاښت کښی.

**تفسیر:** یعنی د انبیاؤ په کارونو کښی له سره هیڅ یو تلبیس او تلمیع نه وی. د دوی ګرد (تول) معاملات ښکاره ـ واضح ـ او صاف وی ـ موسٰی علیه السلام وفرمایل «ښه په هم هغه ورځ کښی چه تاسی لویه میله او رسمی جشن کوئ په هم هغه ورځ کښی څه مهال(وخت)چه لمر ښه پورته راشی ـ نو دغه د مقابلی نمائش (ښودنه) هم شروع شی ـ یعنی په دغه میله کښی په هر ځای او هر وقت چه دیر خلق سره راتول شوی وی په رڼا(رڼرا) ورځ کښی دی دغه مقابله وکړله شی ـ څو کتونکی دیر زیات وی او د ورځی په رڼا(رڼرا) کښی هر څوک هر شی په ښه شان سره وګوری او هیڅ یوه اشتباه په منځ کښی واقع نشی.

حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «په لویه مجمع کښی له مقابلی ځنی د دواړو طرفینو غرض دا ؤ چه هغه غوښته چه دوی د ګردو (تولو) خلقو په مخ کښی بره او مغلوب شی ـ او هغو غوښته چه هغه بر او مغلوب شی د تولو وګړو په محضر کښی ـ د دغه جشن انعقاد چه د فرعون کلنی ؤ د مصر په ګردو (تولو) ښارو کښی مقرر ؤ.»

فَتَوَلَّىٰ فِرْعَوْنُ فَجَمَعَ كَيْدَهُ ثُمَّ أَتَىٰ ﴿٦٠﴾

پس مخ وګرځاوه (خپلو مشرانو ته) فرعون پس راتول ئی کړل (اسباب آلات) د مکر فریب خپل بیا راغی (موعد ته سره له جادوګرانو او اتباعو خپلو).

**تفسير:** د دغې خبرې د غوته کولو څخه وروسته فرعون له مجلس څخه پاڅيد او د کوډګرانو د تولولو په ترتيباتو ئې لاس پورې کړ ـ او په داسې وسائلو او وسائطو پسې ولويد چه د هغو په اثر کوډګران بريااليان (کامياب) شي او باالاخر له مکملې تيارۍ څخه وروسته په ډير قوت او طاقت سره په هم هغه ټاکلي (مقرر کړی) وقت د مقابلې په ميدان کښې په داسې حال حاضر شو چه د کوډګرانو يو لوی فوج له ده سره ؤ؛ له دوی سره د انعاماتو او اکرامو لوئې وعدې هم کړې شوې وې او دوی ګرد (تول) په دې باندې ګمارلي شوي ؤ چه په هر ډول (طريقه) سره چه کيږي شائې چه موسٰی عليه السلام ته ماتې ورکړئ ګواکې دوی د حق او حقانيت د مغلوبولو په فکر کښې ؤ.

قَالَ لَهُمْ مُوسٰى وَيْلَكُمْ لَا تَفْتَرُوا عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا فَيُسْحِتَكُمْ بِعَذَابٍ ۚ وَقَدْ خَابَ مَنِ افْتَرٰى ﴿٦١﴾

وويل دغو (ساحرانو) ته موسٰی (نازل دې کړی الله پر تاسې) هلاکت د تاسې مه تړئ پر الله باندې دروغ پس هلاک به کړی تاسې په عذاب سره او په تحقيق خراب او نا اميده شو هر هغه څوک چه دروغ ئې وتړل (پر الله).

**تفسير:** معلوميږي چه په دغه مجمع کښې موسٰی عليه السلام هر يوه ساحر ته د ده له حاله سره سم پند او نصيحت فرمايلي ؤ ـ کله چه کوډګران د حق مقابله په جادو سره کوونکي ؤ ـ نو هغوی ته ئې تنبيه ورکوله چه ګورئ په لوی لاس خپل ځانونه په هلاکت کښې مه اچوئ! د الله تعالٰی د قدرت نښې او معجزې او د انبياؤ عليهم السلام معجزو ته سحر ويل ـ او بې حقيقته شيان د ثابت شويو شيانو او حقائقو په مقابله کښې وړاندې کول، ګواکې پر پاک الله دروغ تړل دي. اما د دروغ تړونکو خاتمه او انجام له سره ښه نه دی ـ بلکه انديښنه شته چه پر داسې خلقو آسمانی آفت نازل شي ـ او د دوی بيخ او بکر وباسي ـ او بنياد او اساس ئې ور وران کړی.

فَتَنَازَعُوا أَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ وَأَسَرُّوا النَّجْوٰى ﴿٦٢﴾

پس سره جګړه وکړه دغو (ساحرانو) په کار خپل پخپلو منځونو کښې (دغو جادوګرو) او پټ ئې وساته دغه راز (په منځ خپل کښې).

**تفسير:** د موسٰی عليه السلام له دغه موعظه او تبليغ څخه د کوډګرانو په جرګه کښې سخته ويره

او اندیښنه ورپیدا شوه ـ او پخپلو منځونو کښې ئې په جګړو او مناقشو لاس پورې کړ ـ چه مونږ له دغه سړی سره څه وکړو د ده خبرې د کوډګرانو په شان له سره نه معلومیږی الغرض پخپلو منځونو کښې ئې سره بحث او مذاکرې کولې ـ او له ګردو (تولو) څخه جلا (جدا) شوی په ګوښې (بیل) مرکو او جرګو مشغول شول. بالاخر وروسته له ډیرو مناظرو ـ مخالفتونو او منازعو د فرعون له اثره متأثر شول او هغه خبرې او اترې ئې وکړې چه وروسته راځی.

---

قَالُوٓا اِنْ هٰذٰنِ لَسٰحِرٰنِ يُرِيْدٰنِ اَنْ يُّخْرِجٰكُمْ مِّنْ اَرْضِكُمْ بِسِحْرِهِمَا وَيَذْهَبَا بِطَرِيْقَتِكُمُ الْمُثْلٰى ﴿٦٣﴾

---

وویل (جادوګرانو) دا دواړه خامخا ساحران دی اراده لری دوی دواړه چه وباسی تاسی له ځمکی (ملک) د تاسی په سحر خپل سره او بوځی (محو کړی دوی دغه) لیاره (د دین) د تاسی چه ډیره غوره ده.

---

**تفسیر:** (په ان هذان» کښې دغه «ان» مخفف دی له مثقلی څخه ځکه دا لام فارق په مابین د نافیې او د مخففې پرې داخل شوی دی یا دغه «ان» په معنی د ما او دا لام په معنی د «الا» دی یعنی ماهذان الا ساحران) یعنی چه له پخوا راهیسی ستاسی کوم دین او رسوم جریان لری هغه له منځه لری کړی او خپل دین او طور او د جادو او کوډو فن هم رائج کړی چه د هغه په زور په دغه ملک کښې ستاسی عزت (پت) او کمائی (ګټه) شته هم دغه دواړه وروڼه غواړی چه له تاسی څخه وشکوی او یواځې هم دا دواړه پرې قابضان شی.

---

فَاَجْمِعُوْا كَيْدَكُمْ ثُمَّ ائْتُوْا صَفًّا ۚ وَقَدْ اَفْلَحَ الْيَوْمَ مَنِ اسْتَعْلٰى ﴿٦٤﴾

---

پس راجمع کړئ تاسی (اسباب د سحر او) مکر خپل بیا راشئ میدان د معارضی ته صف صف، او په تحقیق بریالی (کامیاب) شو نن ورځ هغه څوک چه غالب شو

---

**تفسیر:** یعنی د موقع اهمیت وپیژنئ! وقت له لاسه مه باسئ! په پوره همت او قوت سره ګرد (تول) یو ځای شئ! ـ او د دوی د پره کولو تدبیر وکړئ! او دفعتاً داسی حمله پرې وروړئ! چه په یو وار کښې د دوی قدمونه وښوئیږی او وبرځیږی ـ چه د نن ورځې جګړه فیصله کوونکې جرګه ده ـ د نن ورځې بری دائمی کامیابی او د تل بری دی. هر هغه فریق چه نن غالب او بریالی (کامیاب) شی نو هغه د همیشه دپاره منصور او مفلح ګڼلی کیږی.

قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِمَّآ اَنْ تُلْقِيَ وَاِمَّآ اَنْ نَّكُوْنَ اَوَّلَ مَنْ اَلْقٰى ﴿٦٥﴾ قَالَ بَلْ اَلْقُوْا

وويل (کودګرانو) ای موسٰی یا به ته غورځوی (اول همسا خپله) او یا به شو مونږ اول د هغه چا چه غورځوی (همسا خپله) وویل (موسٰی) بلکه وغورځوئ تاسی ړومبی (نو واچول ساحرانو اسباب د سحر خپل).

**تفسیر:** موسٰی علیه السلام په ډیری بی پروائی سره جواب ورکړ چه نه ړومبی تاسی خپلی ننداری راوښیئ او خپلی چاری مو راښکاره کړئ! څو د باطل د زور آزمویلو څخه وروسته د حق غلبه په پوره ډول (طریقه) سره درښکاره شی ـ دغه قصه د الاعراف په (۱۲) رکوع کښی پخوا له دی نه هم لیکلی شوی ده هلته دی ولوسته شی.

فَاِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ اِلَيْهِ مِنْ سِحْرِهِمْ اَنَّهَا تَسْعٰى ﴿٦٦﴾

پس ناڅاپه (دغه وقت) هغه پړی د دوی او همساګانی د دوی په خیال کښی راوستی کیدی دغه (موسٰی ته) له وجه د سحره د دغو (ساحرانو) داسی چه بیشکه دغه (ماران دی چه) منډی وهی (او ځغلی).

**تفسیر:** یعنی د ساحرینو له نظربندئ څخه موسٰی علیه السلام ته داسی په نظر ورځی چه ګواکی دغه ګرد (ټول) پړی او همساګانی د مارانو (منګورانو) په شان منډی رامنډی وهی ځغلی او راځغلی او په واقع کښی خبره داسی نه وه.

فَاَوْجَسَ فِيْ نَفْسِهٖ خِيْفَةً مُّوْسٰى ﴿٦٧﴾

بیا ومونده په نفس خپل کښی ویره موسٰی (چه خلق به د سحر او معجزی فرق ونشی کړی او ګمراه به پاتی شی).

**تفسیر:** یعنی د کودګرانو د دغی چاری د لیدلو څخه ناپوهان تیر نه وځی او حمقا ونه غولیږی او د سحر (کودو) او د معجزی په منځ کښی به سره فرق ونه کړی شی ـ نو په دغه صورت کښی به د حق غلبه نه واضح کیږی. د خوف دغه مطلب د وروستنی جواب څخه ښرګندیږی

(ښكاريږي).

قُلْنَا لَا تَخَفْ إِنَّكَ أَنْتَ الْأَعْلَىٰ ﴿٦٨﴾

ومو ويل (موسٰى ته) مه ويرېږه (په زعم خپل) بېشكه ته چه ئى هم دا ته ئى دير غالب.

تفسير: يعني ويره له خپل زړه څخه وباسه! او دغسې وسوسې ته په خپل زړه كښې ځاى مه وركوه! الله تعالىٰ هرومرو (خامخا) حق ته برى او غلبه وركوى او تل ئى په ارتقاء او اعتلاء كښې ساتي (او په دى كښې پنځه مبالغې دي (١) حرف د تحقيق. (٢) تكرار د ضمير. (٣) تعريف د جزاء (٤) لفظ د علو (٥) صيغه د مبالغې).

وَأَلْقِ مَا فِي يَمِينِكَ تَلْقَفْ مَا صَنَعُوا ۖ

او وغورځوه هغه شى چه په ښى لاس د تا كښې دى چه له حلق څخه ښكته تير كړى هغه شيان چه دوى جوړ كړى دى (او خپلې ګيدى ته ئى وغورځوى)

تفسير: يعني خپله همسا په ځمكه وغورځوه! چه د دوى دغه ګردى (تولې) كودى او پلمې يوه نمرى او ګوله كړى ـ او ميدان د دوى له وجوده پاک شي.

إِنَّمَا صَنَعُوا كَيْدُ سَاحِرٍ ۖ وَلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُ حَيْثُ أَتَىٰ ﴿٦٩﴾

بېشكه هغه شى چه جوړ كړى دى دوى (او ميدان د مقابلې ته ئى حاضر كړى دى) مكر د ساحر دى؛ او برى نه مومى ساحر (كودګر) هر چيرته چه راشي (او وى).

تفسير: يعني د كودګرانو كودى ـ سحر ـ جادو او نورې پلمې (تدبيرونه) چه څومره دى او تر هرې اندازې پورې چه ورسيږى د حق په مقابله كښې له سره برى نشي موندلى ـ او نه پخپله كودګر هيڅ چيرې فلاح موندلى شي نو ځكه په حديث كښې د كودګر د قتل حكم وركړى شوى دى.
(كله چه وغورځوله موسٰى عليه السلام همسا خپله او تير كړ همسا هغه اسباب د سحر په خپلې ګيدې كښې

او وپوهيدل ساحران چه دغه معجزه ده سحر نه دی پس ولويدل بی اختياره لکه چه فرمائی)

فَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سُجَّدًا قَالُوٓا آمَنَّا بِرَبِّ هَٰرُونَ وَمُوسَىٰ ﴿٧٠﴾

پس وغورځول شول کودګران (نسکور) په دغه حال کښی چه سجده کوونکی ؤ (الله ته) (نو کودګرانو) ووېل ايمان مو راوړی دی په رب د هارون او (رب د) موسٰی.

تفسير: دغه کودګران چه ډير فنی سړی او د تخصص خاوندان وو سم د لاسه وپوهيدل چه دغه له سره سحر نشی کيدی او علی اليقين دغه له سحره د پاسه بل کوم حقيقت او کيفيت لری نو فی الحال د دوی زړونه د ايمان په رڼا (رڼرا) سره روښان شول او د پاک الله د عظمت او قدرت په مقابل کښی سر په سجده ولويدل. دغه قصه د الاعراف په ۱۲ رکوع کښی ليکلی شوی ده.

قَالَ آمَنتُمْ لَهُۥ قَبْلَ أَنْ آذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّهُۥ لَكَبِيرُكُمُ الَّذِي عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۖ

ووېل (فرعون) چه تصديق وکړ تاسی ده ته پخوا له هغه چه اذن درکړم زه تاسی ته (د تصديق د ده) بيشکه چه دی خامخا مشر د تاسی دی هغه چه ښوولی ئی ده تاسی ته جادو.

تفسير: يعنی بی ځما له اجازی او حکم صادرولو څخه تاسی ايمان راوړ او ځما فيصلی ته مو له سره غوږ کينښود او منتظر نشوئ نو معلوم شو چه تاسی او موسٰی عليه السلام پخپلو منځونو کښی سره روغه او جوړښت سره کړی دی او دغه مقابله مو داسی راښکاره شوه لکه د زرګرانو جنګ چه په دغه سره غواړئ چه عوام الناس وغلوئ لکه چه د الاعراف په سورت کښی هم مذکور شو.

فَلَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَافٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِي جُذُوعِ النَّخْلِ وَلَتَعْلَمُنَّ أَيُّنَآ أَشَدُّ عَذَابًا وَأَبْقَىٰ ﴿٧١﴾

نو اوس به پری کړم زه خامخا لاسونه د تاسی او پښی د تاسی له خلافه (يعنی ښی لاس او کينه پښه ـ يا کيڼ لاس او ښی پښه) او خامخا ځوړند به

کرم هرومرو (خامخا) تاسی په تنو د خرماؤ کښې څو ستاسی د حال د لیدلو څخه ګردو (تولو) ته پند او عبرت حاصل شي او خامخا معلوم به کړئ تاسی هرومرو (خامخا) چه کوم یو له مونږ نه ډیر سخت دی له جهته د عذاب او ډیر پاتی کیدونکی دی (زه که موسٰی؟)

**تفسیر:** یعنی تاسی پخپل دغه ایمان راوړلو سره داسی راځرګندوئ چه هم دا مونږه منجی یو او نور ګرد (تول) خلق (یعنی فرعون او فرعونیان) به په ابدی عذاب کښې اخته او مبتلا کیږی ـ نو اوس به درمعلوم شي چه د چا عذاب زیات سخت دی ـ او تر زیات وقت پوری پاتی کیدونکی دی؟

قَالُوا لَنْ نُّؤْثِرَكَ عَلٰى مَا جَآءَنَا مِنَ الْبَيِّنٰتِ وَالَّذِىْ فَطَرَنَا فَاقْضِ مَآ اَنْتَ قَاضٍ ؕ اِنَّمَا تَقْضِىْ هٰذِهِ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ؕ﴿۷۲﴾ اِنَّآ اٰمَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا خَطٰيٰنَا وَمَآ اَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ السِّحْرِ ؕ

وویل (کودګرانو) چه له سره به غوره نه کړو تا په هغه چه راغلی دی مونږ ته له ښکاره ؤ معجزو او هغه (الله) چه پیدا کړی ئی یو مونږ پس وکړه ته هغه کار چه ته ئی کوونکی ئی بیشکه هم دا خبره ده چه حکم به ورکړی ته په دی ژوندون لږ خسیس (په قتل او په نورو تعزیراتو) بیشکه مونږ ایمان مو راوړی دی په رب خپل چه وبښی مونږ ته ګناهونه څمونږ او هغه چه تا مجبوره کړی یو مونږ په (کولو د) هغه شي باندی له سحره (په مقابل د معجزی کښې)؛

**تفسیر:** یعنی مونږ داسی صاف حقانی دلائل ستا له خاطره نشو پریښودی؟ او د خپل حقیقی خالق د خوښی په مقابل کښې ستا هیڅ پروا نشو کولی ـ اوس هر څه چه ستا له لاسه کیدی شي وئی کړه ـ ستا خو هم دغومره زور رسیږی چه څمونږ دغه فانی دنیوی ژوندون ختم کړی. که ته داسی وکړی نو هیڅ مضائقه نه لری، مونږ لا ږومبی له دی نه د دغه دارالفناء په مقابل کښې دارالبقاء ته ترجیح ورکړی ده او مونږ د دی دنیا د رنځ او راحت په فکر کښې نه یو او یوائځی څمونږ آرزو او تمنا هم دا ده چه څمونږ مالک او مولٰی له مونږه خوښ او رضاء شي ـ او څمونږ ګرد (تول) ګناهونه خصوصاً هم دغه ګناه چه ستا د حکومت له خوفه بالجبر څمونږ له لاسه صادره شوی ده. «یعنی چه د حق مقابله مو له جادو سره کړی ده» معاف وفرمایی وائی

چه کودګران د حضرت موسٰی علیه السلام د معجزی له لیدلو څخه په دی پوهیدلی وو. چه دغه جادو نه دی ـ او مونږ لره نه ښائی چه د ده په مقابل کښی ودریږو خو د فرعون په امر او د ده له ویری مو په مقابله لاس پوری کړل.

وَاللّٰهُ خَيْرٌ وَّأَبْقٰى ﴿٧٣﴾

او الله خیر غوره دی (له جهته د جزا ورکولو له تا نه) او ډیر باقی پاتی کیدونکی دی (عذاب د ده).

**تفسیر:** یعنی هغه انعام او اکرام چه تا به مونږ ته راکاوه له هغه څخه ښه او تل پاتی کیدونکی اجر مؤمنینو ته د الله تعالٰی له درباره ورکاوه کیږی. (وفرمایل الله تعالٰی چه)

إِنَّهُ مَنْ يَّأْتِ رَبَّهُ مُجْرِمًا فَإِنَّ لَهُ جَهَنَّمَ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيٰى ﴿٧٤﴾

بیشکه شان دا دی هر څوک چه راشی رب خپل ته کافر (په عقبٰی کښی) پس بیشکه شته ده ته جهنم دوزخ چه نه به مری په دی دوزخ کښی (چه هوسا «آرام» شی) او نه به ژوندون کوی (د ژوندون په څیر)

**تفسیر:** یعنی انسان لره په کار دی چه اول د آخرت په فکر کښی اوسی او داسی دی ونه کړی چه د مخلوق په اطاعت کښی د خالق معصیت وکړی څکه چه د داسی مجرمانو د هستوګنی ځای ډیر بد ځای دی چه له هغه څخه نجات او ژغورنه (بچ کیدنه) په هیڅ یوه صورت سره ممکنه نه ده ـ دنیوی تکالیف او مشقات هومره چه وی یواځی د مرګ په راتګ سره ګرد (تول) ختمیږی. لیکن کفارو ته په دوزخ کښی هم مرګ نه وررسیږی چه د دوی هغه مصائب او تکالیف پای (انجام) ته ورسوی او د هغوی هغه جهنمی ژوندون به هم د ښه ژوندون په شان نه وی ـ یعنی د دوی هغه ژوندون به داسی وی چه پر هغه به مرګ په زرهاؤ درجو مرجح او بهتر وی. (العیاذبالله).

وَمَنْ يَّأْتِهِ مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ الصّٰلِحٰتِ فَأُولٰٓئِكَ لَهُمُ الدَّرَجٰتُ الْعُلٰى ﴿٧٥﴾
جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ خٰلِدِينَ فِيهَا ط

او هر څوک چه راشي دغه (الله) ته (په قيامت کښې) په دې حال کښې چه مؤمن وي چه په تحقيق کړي ئې وي ښه (عملونه په دنيا کښې) پس دغه مؤمنان چه دي شته دوی ته (درجې) مرتبې ډيرې اوچتې (چه هغه مرتبې) جنتونه دي د(تل) هستوګنې چه بهيږي (له لاندې د مانيو او ونو) د دوی (څلور قسمه) ويالې هميشه به وي دوی په دغو (جنتونو) کښې.

**تفسير:** د مجرمانو بالمقابل ئې د دغو مطيعانو خاتمه او انجام بيان وفرمايله.

وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا مَنْ تَزَكّٰى ﴿٧٦﴾

او دغه (درجې او جنتونه) جزاء ده د هغه چا چه ځان ئې پاک کړې وي (له خيرو د کفر او له ګناهونو)

**تفسير:** يعنې له چټلو خيالاتو ـ فاسده ؤ عقائدو ـ رذيله ؤ اخلاقو او خرابو اعمالو څخه پاک او صاف وي.

وَلَقَدْ اَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى ۥ اَنْ اَسْرِ بِعِبَادِيْ فَاضْرِبْ لَهُمْ طَرِيْقًا فِي الْبَحْرِ يَبَسًا لَّا تَخٰفُ دَرَكًا وَّلَا تَخْشٰى ﴿٧٧﴾ فَاَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ بِجُنُوْدِهٖ فَغَشِيَهُمْ مِّنَ الْيَمِّ مَا غَشِيَهُمْ ﴿٧٨﴾

او خامخا په تحقيق وحې کړې وه مونږ موسٰی ته داسې چه د شپې وباسه (له مصره) بندګان زما (بني اسرآئيل) پس جوړه کړه دوی ته (په وهلو د همسا خپلې سره) لياره په بحر (سيند) کښې وچه نه به ويريږې ته په تعقيب (د فرعون له ميندلو او نيولو د فرعونيانو نه) او نه به ويريږې (له ډوبيدلو) پس راغې په هغو (بني اسرآئيلو) پسې (له وروسته) فرعون سره د لښکرو د ده پس لاندې کړل دوی له سيند څخه هغه څيز چه لاندې ئې کړل.

**تفسير:** کله چه فرعونيانو په ميداني مقابله کښې ماتې ومونډلې ـ او کوډګران مشرف بالايمان شول او د بني اسرائيلو ثقل څه دروند شو ـ او موسٰی عليه السلام له کلو کلو راهيسې د الله تعالٰی باهره آيات وروښودل ـ او هر شان حجت ئې په اتمام ورساوه ـ خو سره له هغه فرعون دغې خبرې ته تيار او آماده نشو چه حق ومني يا بني اسرائيلو ته آزادي او خپلواکي ورکړي ـ

دلته د الله تعالیٰ داسی حکم پر موسٰی علیه السلام صادر شو چه بنی اسرائیل له خپله ځانه سره روان کړه ! ـ او د شپی له مخی له مصره هجرت وکړئ ! ـ ځو په دغه وسیله سره بنی اسرائیل له مظلومیت او غلامی ځخه نجات ومومی ـ په لیاره کښی به سمندر (د قلزم بحیره) حائل کیږی لیکن تا غوندی د یوه اولوالعزم نبی په لیاره کښی نه ښائی چه سمندر هم حائل شی ـ نو د هم دغه سمندر په منځ کښی د خپل ځان دپاره داسی لیاره پیدا کړه ! تر ځو پر هغی باندی له پوری وتلو ځخه نه د دوبیدلو اندیښنه او نه د فرعونیانو د تعاقب او د درپسی راتللو او د رسیدلو او نیولو خرخشه (تردد) وی ـ لکه چه موسٰی علیه السلام له هم دغه هدایت سره سم پر سمندر باندی خپله همسا ووهله چه په هغه سره اوبه له سره تر بیخه پوری ځیری او دوولس کوځی شوی او الله تعالیٰ باد ته امر وکړ چه سم د لاسه دغه ځمکه وچه کړه ! لکه چه آناً فاناً د سمندر عمق (نات) وچه سمه صافه لیاره شوه او په دواړو اطرافو کښی د سمندر اوبه لکه دیر لوی لوی غرونه ولاړ وی ﴿ فَانفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَالطَّوْدِ الْعَظِيمِ ﴾ پس ځیر شو بحر پس وګرځیده هره ټوټه د اوبو لکه لوی غر» نو بنی اسرائیل پر دغه لیاره بی له کومه تکلیف او مشقته تیر شو وروسته فرعون سره له خپل عظیم الشان فرعونی لښکر د دوی د تعاقب او نیولو دپاره راغلل او دغه وچه سمه صافه لیاره ئی لیدلی په بنی اسرآئیلو پسی هلته ننوتل څه مهال (وخت) چه بنی اسرآئیل له سینده بیخی پوری وتل او فرعون سره له خپله فرعونی لښکره بیخی د سیند منځ ته ورسیدل الله تعالیٰ سمندر ته امر وکړ چه له دواړو خواؤ اوبه سره یو ځای کړه ! او فرعون سره له فرعونیانو په خپله غیږ کښی تینګ ونیسه ! نو بیا په دی خبری پسی هیڅ مه ګرځه ! او له سره ئی پوښتنه مه کوه چه د سمندر امواجو (څپو) په څه شان دوی ګرد (تول) سره پناه کړل؟ او ځرنګه د مرګی سور څادر ئی پری وغوړاوه؟ او پخپله سره غیږ کښی ئی یخ پخ او تینګ ونیول.

## وَأَضَلَّ فِرْعَوْنُ قَوْمَهُ وَمَا هَدَىٰ ﴿٧٩﴾

او ګمراه کړ فرعون قوم خپل او (ورته ئی) ونه ښودله لیاره سمه

**تفسیر:** یعنی په ژبه سره خو ئی دیری دعوی کولی چه ﴿ وَمَا أَهْدِيكُمْ إِلَّا سَبِيلَ الرَّشَادِ ﴾ لیکن ده خپل قوم ته ځرنګه ښه لیاره ورښوده؟ بیشکه چه فرعون دغه مثال پر فرعونیانو ممثل کړ.

تینګ دی ساتمه په غیږ زه خو دوبیږم مین
له خپله ځانه سره تابه هم دوب کړم مین

همغسی چه د دی حال په دنیا کښی شو ـ هم هغه ئی په آخرت کښی هم په برخه کیږی ـ دلته له خپلو ګردو (تولو) ملګرو او لښکرو سره په سیند کښی دوب شول ـ هلته به هم له هم دغو

سره یو ځای د دوزخ په لمبو کښې دوبیږی لکه چه د هود په ۹ رکوع کښې مسطور دی
﴿ يَقْدُمُ قَوْمَهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَأَوْرَدَهُمُ النَّارَ ﴾

يٰبَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ قَدْ أَنجَيْنٰكُم مِّنْ عَدُوِّكُمْ وَوٰعَدْنٰكُمْ جَانِبَ الطُّورِ الْأَيْمَنَ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى ۝٨٠ كُلُوا مِن طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ وَلَا تَطْغَوْا فِيهِ

(وفرمایل الله چه) ای بنی اسرآئیلو (اولادی د یعقوب) په تحقیق نجات درکړ مونږ تاسی ته له دښمنه د تاسی (له فرعون) او وعده کړی ده مونږ له تاسی سره (په واسطه د موسیٰ) جانب د طور (چه) ښی (جانب دی) او نازل کړ مونږ پر تاسی من (ترنجبین) او سلویٰ (وریت کړی مرغان) خورئ تاسی له طیبو (پاکیزه ؤ شیانو) هغه چه رزق روزی مونږ درکړی ده تاسی ته او مه کوئ تجاوز په هغه (مرزوق کښې په اسراف اذخار بخل او کفران سره)

**تفسیر:** په دغه سره الله تعالیٰ بنی اسرآئیلو ته پند ورکوی چه وګورئ مونږ پر تاسی باندی څرنګه احسانات او انعامات فرمایلی دی ـ ښائی چه تاسی هم د هغه حق اداء کړئ! آیا دغه کومه وړه او کوچنی خبره ده چه تاسی ته مو د دغسی جابر او قاهر دښمن له لاسه نجات درکړ ـ او هغه مو په یوی ډیری عبرتناکی طریقی سره ستاسی تر سترګو لاندی هلاک او تباه کړ ـ بیا د حضرت موسیٰ علیه السلام په وسیله مو له تاسی سره وعده وکړه چه له مصر څخه د شام په طرف د ورتګ په وقت کښې د «طور» د غره هغی مبارکی او میمونی برخی ته چه په ښی لاس کښې پرته ده راشئ! نو تاسی ته به «توریت» درعطاء کیږی ـ د «تیه» په لق ودق او ډاګ سپیره میدان (میره) کښې ستاسی د خوراک دپاره مو «من» ترنجبین او «سلوا» مرغان او کرکان نازله کړه چه د هغو ذکر د البقره د سورت په (٦) رکوع کښې هم لیکلی شوی دی. د دغو احساناتو او انعاماتو په مقابل کښې تاسی ته دغه لائق او مناسب ؤ ـ چه هغه حلال او طیب ـ لذیذ ـ خوندور ـ او پاک شیان چه الله تعالیٰ تاسی ته عنایت فرمایلی دی د هغه استعمال په ډیر شوق او ذوق وکړئ! او په دغه معامله کښې له حده مه تیریږئ! لکه داسی چه ناشکری او اسراف وکړئ! یا په دغه فانی تنعماتو کښې بیخی محو او ډوب شئ او د الله تعالیٰ واجبه حقوق اداء نه کړئ! یا دغه د الله تعالیٰ درکړی شوی مال او دولت په مناهیو او معاصیو کښې ولګوئ یا هر چیری او هر ځای کښې چه د تعدیل ـ تأویل او مکر او فریب څخه ممانعت کړی شوی دی هلته په دغو تأویلاتو ـ مکر او فریب پسی مه ګرځئ! الغرض د الله تعالیٰ درکړی نعمتونه د

طغيان او عصيان آله له سره مه كړئ.

فَيَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبِىْ ۚ وَمَنْ يَّحْلِلْ عَلَيْهِ غَضَبِىْ فَقَدْ هَوٰى ﴿٨١﴾

پس واجب لازم راكوز به شي پر تاسې غضب قهر ځما او هر څوک چه لازم واجب راكوز شي پر ده غضب ځما پس په تحقيق سخت وغورځيد (په هاويه كښې).

تفسير: يعنى كه تزئيد وكړئ نو د الله تعالىٰ غضب به پر تاسې نازليږي؛ او د ذلت او عذاب په تورو تيارو؛ غارونو كښې غورځول كيږئ!.

وَاِنِّىْ لَغَفَّارٌ لِّمَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدٰى ﴿٨٢﴾

او خامخا زه هرومرو (خامخا) ښه مغفرت كوونكى يم هغه چاته چه توبه ئې وويسته (له شركه او ايمان ئې راووړ په تولو مؤمن به شيانو)

تفسير: د مغضوبينو په مقابل كښې دغه د مغفورينو بيان وشو يعنى هومره چه لوى مجرم وي كه د زړه په صدق سره تائب شي ـ او د ايمان او صالح عمل لياره ځان ته غوره كړي او پر هم دغه د ايمان پر سمه صافه لياره تر مرگه پورى مستقيم پاتې شي نو د الله تعالىٰ په دربار كښې د مغفرت او د رحمت هيڅ كمى او تقليل نشته.

وَمَآ اَعْجَلَكَ عَنْ قَوْمِكَ يٰمُوْسٰى ﴿٨٣﴾ قَالَ هُمْ اُولَآءِ عَلٰٓى اَثَرِىْ وَعَجِلْتُ اِلَيْكَ رَبِّ لِتَرْضٰى ﴿٨٤﴾

او څه شي راگړندى كړې ته (چه ړومبى راغلې) له قومه خپله اى موسىٰ ووېل (موسىٰ) دوى دغه دى (روان دى) راپسې له وروسته ځما (دير نژدې) او جلتى مې وكړه تاته (په راتلو كښې) اى ربه ځما دپاره د دې چه راضي شې ته (له مانه نه تكبراً).

تفسير: حضرت موسىٰ عليه السلام حسب الوعده په ديره مينه او اشتياق سره «طور» ته ورسيد ـ

ښائی چه داسی حکم هم پری شوی وی چه د خپل قوم ځینی مشران او غټان هم له خپله ځانه سره راو له ـ او هغوی به تری لږ څه وروسته پاتی شوی وی ـ او موسٰی علیه السلام به په دیر شوق او ذوق سره مخ کښی وړاندی تللی وی؛ نو الله تعالیٰ وفرمایل ای موسٰی دومره ګرندی ولی راغلی؟ او خپل قوم او ملګری دی ولی وروسته پریښودل؟ عرض ئی وکړ چه ای رب العالمین ستا د خوښی او رضاء دپاره دیر ژر حاضر شوم ـ او قوم هم دومره له ما څخنی لری نه دی ـ دغه دی راپسی راځی ـ **كذا فی التفاسير ويحتمل غير ذلك والله اعلم**

قَالَ فَإِنَّا قَدْ فَتَنَّا قَوْمَكَ مِنْ بَعْدِكَ وَأَضَلَّهُمُ السَّامِرِيُّ ﴿٨٥﴾

وفرمایل (الله) پس بیشکه مونږ چه یو په تحقیق وموآزمویه قوم د تا وروسته له (راتللو د ستا) او ګمراه کړل دوی (یوه زرګر) سامری (په عبادت د خسی سره).

**تفسیر:** یعنی ته دلته راغلی ـ او ما ستا قوم په یو دیر سخت امتحان کښی غورځولی دی چه د هغه سبب په عالم اسباب کښی سامری ګرځیدلی دی ځکه چه د هغه په اضلال او اغواء سره بنی اسرآئیلو د موسٰی علیه السلام په غیاب کښی د خسی (ګلګی او سخوندرکی) په عبادت لاس پوری کړ چه د هغه قصه د الاعراف په (١٨) رکوع کښی هم تیره شوی ده.

**تنبیه:** ځینی وائی چه د «سامری» نوم هم موسٰی ؤ ـ د ځینو په نزد سامری «سبطی» ؤ. د ځینو په نزد «قبطی» ؤ په هر حال د جمهور رائی دا ده چه دغه سړی د موسٰی علیه السلام د عهد منافق ؤ ـ او د منافقانو په شان به په چل او فریب سره د مسلمانانو د ګمراه کولو په فکر کښی ؤ ـ د ابن کثیر روایت له اسرآئیلی کتابونو سره سم د ده نوم هارون دی.

فَرَجَعَ مُوسَىٰ إِلَىٰ قَوْمِهِ غَضْبَانَ أَسِفًا ۚ قَالَ يَا قَوْمِ أَلَمْ يَعِدْكُمْ رَبُّكُمْ وَعْدًا حَسَنًا ۚ أَفَطَالَ عَلَيْكُمُ الْعَهْدُ أَمْ أَرَدْتُمْ أَنْ يَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبٌ مِنْ رَبِّكُمْ فَأَخْلَفْتُمْ مَوْعِدِي ﴿٨٦﴾

پس راوګرځید موسٰی قوم خپل ته دیر غضبناک خورا (دیر) غمجن وویل (موسٰی) ای قومه ځما آیا وعده نه وه کړی له تاسی سره رب د تاسی وعده حسنه (نیکه ښه د ورکولو د توریت)؛ آیا پس اوږده شوه پر تاسی زمانه (د بیلتون ځما) او که اراده کړی وه تاسی چه لازم واجب راکوز شی پر تاسی

غضب قهر له جانبه د رب د تاسی پس خلافه کړه تاسی هغه وعده ځما (چه تاسی راسره کړی وه په ثبات سره په دین کښی).

**تفسیر:** یعنی ځما په متابعت کښی تاسی ته د دینی او دنیوی هر قسم نیکی دررسیږی لکه چه دیره عظیم الشانه نیکی هم دا اوس تاسی پخپلو سترګو سره ولیدله ـ او هغه څه چه باقی دی هغه عنقریب دررسیږی ـ آیا له دغی وعدی څخه دیر زیات مدت تیر شوی دی؟ چه تاسی دغه تیر ګرد (تول) احسانات هیر کړل او د وروستینو انعاماتو له دیر انتظار کولو څخه ستری ستومان شوئ؟ یا عمداً او په لوی لاس مو له ما سره وعده خلافی وکړه؟ او د توحید پر دین قائم پاتی نشوئ؟ او د الله تعالیٰ غضب مو ځان ته غوره کړ (کذا فسره ابن کثیر رحمة الله علیه) یا ئی داسی مطلب واخیست شی له تاسی څخه الله تعالیٰ د دیرشو ـ څلویښتو ورځو وعدی اخیستی وه چه دومره مدت به موسٰی علیه السلام په طور کښی معتکف وی او وروسته له هغه به توریت ورکاوه کیږی ـ نو آیا دیر زیات مدت تیر شوی دی؟ چه تاسی له دیر انتظار کولو څخه ستری شوی یئ؟ او د خسی عبادت مو ځان ته غوره کړی دی؟ یا عمداً د دغه حرکت مرتکب شوی یئ څو د الله تعالیٰ د غضب مستحق شئ ـ او له ﴿فَأَخۡلَفۡتُم مَّوۡعِدِي﴾ څخه مراد هغه وعده ده چه بنی اسرآئیلو له موسٰی علیه السلام سره کړی وه ـ چه تاسی مونږ ته د الله تعالیٰ له جانبه یو داسی کتاب راوړئ چه مونږ پری عمل وکړو او ستا په متابعت کښی مستقیم پاتی شو.

قَالُواْ مَآ أَخۡلَفۡنَا مَوۡعِدَكَ بِمَلۡكِنَا وَلَٰكِنَّا حُمِّلۡنَآ أَوۡزَارٗا مِّن زِينَةِ ٱلۡقَوۡمِ فَقَذَفۡنَٰهَا فَكَذَٰلِكَ أَلۡقَى ٱلسَّامِرِيُّ ﴿٨٧﴾

وویل (بنی اسرآئیلو) چه نه مو دی کړی خلاف د وعدی د تا په اختیار خپل سره ولیکن مونږ بار کړی شوی یو په پیتو له ګانو (زیوراتو) او کالیو (کپړو) د قبطیانو د قوم پس ومو غورځولی هغه (ګانی (زیورات) په اور کښی) او هم داسی وغورځولی (ګانی (زیورات) په اور کښی) سامری

**تفسیر:** یعنی مونږ پخپل اختیار او په خپل سر داسی حرکت نه دی کړی ـ په دغه حرکت باندی مونږ د «سامری» په تحریک او لیار ښوونه سره اقدام کړی دی ـ صورت ئی داسی ؤ چه د فرعونیانو د ګانو (زیوراتو) او کالیو (جامو) هغه بار چه څمونږ پر اوږو بار ؤ ـ مونږ نه پوهیدلو چه له هغه سره څه معامله وکړو نو پخپلو منځونو کښی مو مشوره سره وکړه ـ او وروسته له هغه مو داسی غوته کړه چه هغه هیسته وغورځوو نو «سامری هغه واخیست ـ او په اور کښی ئی ویلی کړل؛ او له هغه څخنی ئی د خسی تصویر جوړ کړ او هغه ئی راودراوه ـ دغه قصه د

«الاعراف» په سورت کښې هم تیره شوې ده هلته دې ولوستل شي.
**تنبیه:** د فرعونیانو ګاڼې (زیورات) څرنګه د بني اسرآئیلو په لاس ورغلي وې یا به ئې هغه له دوی نه مستعار اخیستې وې یا د غنیمت د مال په دول (طریقه) به دوی ته په لاس ورغلي وې ـ یا به بل کوم صورت لرې په دې کښې د مفسرینو اختلاف دی. هر یو صورت چه دی بني اسرآئیلو د هغو استعمال د خپل ځان دپاره جائز نه ګاڼه ـ لیکن دا د ډیر تعجب او حیرت ځای دی چه له هغه څخنې ئې بت جوړول ـ او بیا د هغه په عبادت کښې مشغولیدل ئې جائز ګڼل.

فَأَخْرَجَ لَهُمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهُ خُوَارٌ فَقَالُوا هَٰذَا إِلَٰهُكُمْ وَإِلَٰهُ مُوسَىٰ فَنَسِيَ ﴿٨٨﴾

نو راوویست دوی ته (له هغه خندق څخه) یو خسی یو جسد چه ؤ ده ته غږ (د خسي ) نو وویل (سامري او تابعانو ئې) دغه د تاسې خدای دی او خدای د موسٰی دی پس هیر کړی دی ده (خپل خدای دلته او طور ته تللی دی)؛

**تفسیر:** یعنې د موسٰی علیه السلام څخه هیر شوی دی چه د الله تعالیٰ سره د خبرې کولو دپاره طور ته تللی دی ـ الله خو دلته موجود دی یعنې هم دغه خسی دی (العیاذ بالله) ښائی دغه خبره به د دغو یهودانو وې چه په دوی کښې سخت غالبان وو.

أَفَلَا يَرَوْنَ أَلَّا يَرْجِعُ إِلَيْهِمْ قَوْلًا وَلَا يَمْلِكُ لَهُمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا ﴿٨٩﴾

(نو فرمائي الله) آیا نه ګوري دوی بیشکه شان دا دی چه بیرته نه ګرځوي دا (خسی) دوی ته خبره او نه مالک دی دوی ته د ضرر (د دفع کولو) او نه د نفعې (د رسولو).
په «الا یرجع» کښې «ان» مخفف دی له مثقل څخه چه اسم ئې محذوف دی (ای انه)

**تفسیر:** یعنې دغه ړانده په دغومره غته خبره هم ونه پوهیدل چه دغه بت چه نه له چاسره خبرې کولی شي؛ نه چاته لږ څه نفع رسولی شي ـ او نه د څه نقصان رسولو اختیار لري؛ هغه څنګه معبود کیدی شي؟

وَلَقَدْ قَالَ لَهُمْ هٰرُوْنُ مِنْ قَبْلُ يٰقَوْمِ اِنَّمَا فُتِنْتُمْ بِهٖ ۚ وَاِنَّ رَبَّكُمُ الرَّحْمٰنُ فَاتَّبِعُوْنِیْ وَاَطِيْعُوْٓا اَمْرِیْ ﴿٩٠﴾

او خامخا په تحقيق وويل دوی ته هارون پخوا (له راتللو د موسٰی نه له طوره) ای قومه ځما بيشکه هم دا خبره ده چه ازمويلی شوی يئ تاسی په (عبادت) د خسی او بيشکه رب د تاسی هم دا رحمٰن دی (نه بل څوک) نو متابعت وکړئ ځما او اطاعت وکړئ د حکم ځما (چه حکم د ثبات دی په دين کښې).

**تفسير:** يعنی حضرت هارون عليه السلام په پسته ژبه سره دوی پوهولی وو چه پر دغه خسی تاسی غوليدلی يئ دا له سره ستاسی خدای نشی کيدی ـ ستاسی خدای يوائی رحمٰن دی ښه فکر وکړئ چه تر اوسه پوری ئی پر تاسی څومره رحمتونه نازل کړی دی؟ او څومره خپل نعمتونه ئی وررولی دی؟ نو تاسی ولی له هغه څخه مخ اړوئ؟ او له هغه څخه شلولی، له چا سره خپل ځان نښلوئ؟ زه د موسٰی خليفه يم او بالذات پخپله هم د نبوت خاوند يم ـ که خپله ښيگڼه (فايده) غواړئ ـ نو پر تاسی لازم دی چه ځما په طريقه او ليارہ لاړ شئ؛ او ځما خبره ومنئ او د سامری په تگی مه خطاء وځئ، چه هغه مو اغواء کوی ـ او له لياری مو باسی.

قَالُوْا لَنْ نَّبْرَحَ عَلَيْهِ عٰكِفِيْنَ حَتّٰی يَرْجِعَ اِلَيْنَا مُوْسٰی ﴿٩١﴾

وويل (بنی اسرآئيلو) چه هميشه به اوسو په (عبادت د) دی خسی محکم ولاړ تر هغه پوری چه بيرته راشی مونږ ته موسٰی (له طوره).

**تفسير:** يعنی د موسٰی عليه السلام تر راتگه پوری مونږ د دی خسی له عبادت څخه لاس نه اخلو ـ کله چه دوی راغلل نو هلته به وگورو هر کار چه وړ (لائق) او مناسب ؤ ـ هم هغه به کوو.

قَالَ يٰهٰرُوْنُ مَا مَنَعَكَ اِذْ رَاَيْتَهُمْ ضَلُّوْٓا ﴿٩٢﴾ اَلَّا تَتَّبِعَنِ ؕ اَفَعَصَيْتَ اَمْرِیْ ﴿٩٣﴾

وويل موسٰی پس له راتگه خپله له طوره ای هارونه څه شی منع کړی وی ته کله چه تا وليدل دوی چه گمراهان شول له دی چه متابعت دی ونه کړ (د حکم) ځما (په جهاد سره) آيا پس نافرمانی وکړه تا له حکمه ځما.

**تفسير:** يعني ما ته خپل خليفه درولی وی او حکم می درکړی ؤ چه ځما په غياب کښي د دوی اصلاح کوه او د مفسدانو په لياره مه ځه نو بيا تا څه اصلاح وکړه؟ ولی مو د خپلو موافقينو په ملګرتوب له دغو خسی پرستانو سره سخته مقابله ونه کړه ـ او د خسی له عبادته مو دوی ستانه (منع) نه کړل ـ که دا مو له لاسه نه ؤ پوره نو ولی دی له دوی ځخه ونه شکوله او پر ما پسی رانغلی ـ الغرض تا د داسی صريحی ګمراهی له ليدلو سره ولی ځما د اصول او طريقی متابعت ونه کړ؟

قَالَ يَبْنَؤُمَّ لَا تَأْخُذْ بِلِحْيَتِي وَلَا بِرَأْسِي

وويل (هارون) ای ځويه د مور ځما مه نيسه ږيره ځما او نه (ويښتان د) سر ځما

**تفسير:** حضرت موسٰی عليه السلام له ډيره قهره او سختی غصی حضرت هارون عليه السلام ئی له ږيری او د سر له ويښتانو ځخه کلک نيولی ؤ د دی مفصله قصه د الاعراف په (١٨ رکوع) کښي تيره شوی ده د هغه په فوائدو کښي دی ولوستله شی.

إِنِّي خَشِيتُ أَن تَقُولَ فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِي إِسْرَاءِيلَ وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِي ﴿٩٤﴾

بيشکه زه وويريدم له دی نه چه وبه وائی ته (راته) چه بيلتون دی واچاوه په منځ د بنی اسرآئيلو کښي (که چيری ما جنګ کړی وی) او ودی نه کتل امر (خبری) ځما ته

**تفسير:** يعني ځما په فکر کښي هم دغه خبره راغله چه ستا د راتګ انتظار له دی نه بهتر دی چه زه ستاسی په غياب کښي کوم کار وکړم چه د هغه لامله (له وجی) به په بنی اسرآئيلو کسی شقاق او نفاق واقع شی. ځکه ظاهر دی که مقابله يا انقطاع کيده ـ نو څه خلق به له ما سره کيدل؛ او ډير کسان به مخالف کيدل ـ نو زه له دی نه ويريدم چه ته د خپل راتګ په وقت کښي دغه الزام په ما وانه چوی چه ځما د راتګ انتظار دی ولی ونه کړ؟ او په قوم کښي دی ولی داسی تفرقه وغورځوله. حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليکی «د تګ په وقت کښي موسٰی عليه السلام هارون عليه السلام ته داسی نصيحت فرمايلی ؤ چه ګرد (تول) قوم په اتفاق ساته نو ځکه هارون د خسی د عابدانو سره مقابله ونه کړه ـ هو په ژبه سره ئی دوی ډير وپوهول مګر دوی ونه پوهيدل» لکه د هارون عليه السلام د وژلو دپاره هم تيار شول ﴿ وَكَادُوا يَقْتُلُونَنِي ﴾

قَالَ فَمَا خَطْبُكَ يٰسَامِرِيُّ ﴿٩٥﴾

وويل (موسٰی) پس څه وه ستا کار ای سامری (چه خلق دی ګمراه کړل)

**تفسیر:** یعنی موسٰی علیه السلام د هارون علیه السلام د جواب او سوال څخه وروسته (سامری) ئی تر قهر او عتاب لاندی ونیو او تری لازمه پوښتنی ئی شروع کری ـ او وئی ویل چه ته دی په رښتیا خپل حقیقت بیان کره! دغه حرکت دی د څه لامله (له وجی) کاوه ـ او بنا پر کوم اسباب او عوامل بنی اسرائیل ستا په لوری بی لیاری او ګمراه شول؟

قَالَ بَصُرْتُ بِمَا لَمْ يَبْصُرُوا بِهٖ فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِّنْ اَثَرِ الرَّسُوْلِ فَنَبَذْتُهَا وَكَذٰلِكَ سَوَّلَتْ لِيْ نَفْسِيْ ﴿٩٦﴾

وویل (سامری) چه نظر غورځولی ؤ ما په هغه شی باندی چه نظر نه ؤ غورځولی دوی په هغه شی باندی پس واخیستله ما یو موټی (خاوره) له قدمه د (آس د) رسول (جبرئیل) پس ومی غورځوله دا (خاوره په خوله د دی خسی کښی نو په غړیدو شو) او هم داسی ښائسته کړی ؤ ماته (دا کار) نفس ځما.

**تفسیر:** سامری وویل چه ځما نظر پر داسی یو شی ولوید چه د نورو فهم هغه ته ونشو ـ یعنی ما د الله تعالیٰ لیږلی پرښته (جبرئیل علیه السلام) پر آس سوره ولیده ښائی دا به په هغه وقت کښی وی چه بنی اسرائیل دننه په سیند کښی پر هم هغه وچه لیاره تلل ـ او د دوی تر شا فرعونی لښکر هم ننوتلی ؤ په دغه حالت کښی جبرئیل د دواړو ډلو په منځ کښی ولاړ ؤ ـ څو د یوی ډلی خلق د بلی ډلی له خلقو سره ګډ نشی او ضرر ونه رسیږی ـ په هر حال سامری به د کوم محسوس دلیل پر اساس یا له خپله وجدانه یا د کوم قسم تعارف په بناء په دی باندی پوهیدلی وی چه هم هغه جبرئیل علیه السلام دی ـ نو ځکه د ده د پښو یا د ده د آس د سوو له خاورو څخه یی یو موټی خاوره واخیسته ـ او بیا هم هغه ئی د هم هغه د خسی د سرو زرو په مجسمه کښی ورتوئی کره ـ ځکه چه د ده په زړه کښی دغه فکر راغلی ؤ چه د روح القدس د پښو خاورو کښی به هرومرو (خامخا) څه نه څه تاثیر وی. حضرت شاه صاحب لیکلی «دغه سره زر د کفارو د هغو اموالو څخه ؤ چه په فریب اخیستی شوی ؤ ـ نو کله چه په هغه کښی هغه برکتی خاوره ولویده نو د حق او باطل د یو ځای کیدلو څخه تری داسی د یوی کرشمی شی جوړ شو چه هغه مجسمه د سا لرونکو په شان د روح او د غږ خاونده شوه له دغسی شیانو څخه ډیر زیات ځان ساتنه په کار ده چه تری بت پرستی لا ترقی مومی».

**تنبیه:** د دی آیت کوم تفسیر چه پاس بیان شوی دی له کرامو صحابه ؤ ـ تابعینو ـ او مفسرینو علماؤ څخه هم دغه منقول دی ځینو زائغینو چه پر دی باندی طعن کړی دی ـ او د آیت لری له صوابه تأویلات ئی کړی دی ـ د هغه کافی جواب د «روح المعانی» خاوند ورکړی دی ـ دلته د دومره بسط موقع نه ده. **من شاء فلیراجع.**

---

قَالَ فَاذْهَبْ فَإِنَّ لَكَ فِي الْحَيَوٰةِ أَنْ تَقُولَ لَا مِسَاسَ

---

وویل (موسٰی) پس ځه (له موږه لری شه!) پس بیشکه شته تاته په دغه ژوندون کښی دا (عاقبت) چه وبه وائی (هر چا ته چه وئی وینی) چه مه لګیږه (په ما).

---

**تفسیر:** یعنی ماته دی لاس مه راوړاندی کوه! او مه راسره نژدی کیږه! او بیخی لری او جلا (جدا) راڅخه ګرځه! کله چه «سامری» د خسی لویه او ننداره ئی د دی لامله (له وجی) جوړه کړی وه چه د لوئی ـ ریاست او جاه خاوند شی ـ او خلق له ده سره ملګری شی ـ او دی د خپل مشر او سردار په شان ومنی ـ نو ځکه هغه ته په دغه صورت سره مناسبه او کافی سزا ورکړه شوه ـ چه هیڅوک دی له ده سره نه نژدی کیږی بلکه سامری په دی مامور او مجبور شو چه ودانی څخه لری په صحراء او بیدیا کښی لکه یو ذلیل ځنګلی او وحشی ځناور اوسیږی او له سره دی د خلقو سره نه یو ځای کیږی.

---

وَإِنَّ لَكَ مَوْعِدًا لَّنْ تُخْلَفَهُ

---

او بیشکه تاته (په آخرت کښی) وعده (د عذاب) چه له سره به خلاف ونه کړ شی له تا سره له هغی وعدی څخه،

---

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «په دنیا کښی (سامری) ته دغه سزا ورسیده چه د بنی اسرآئیلو له لښکرو څخه د باندی بیل اوسیده ـ که ده به له چاسره ملاقات یا خبری او اتری کولی نو طرفین به په تبه اخته کیدل ـ نو ځکه دی او خلق دواړه یو له بله ډیر لری لری ګرځیدل ـ او دا ئی چه فرمائلی دی چه دا یوه داسی وعده ده چه له سره تری نه مخالف کیږی ـ ښائی تری اخروی عذاب مراد وی. او ښائی چه د دجال وتل به هم د هم هغه سامری فساد په یهودانو کښی تکمیل کړی. لکه ځمونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم کله چه مال ویشه ـ یوه سړی دوی ته وویل چه «په انصاف سره ئی ویشه!» رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه د «هم دی جنس خلق به خروج وکړی» هر هغه چه پر خپلو مشرانو اعتراض کوی او تنقیدونه

پرې نيسي هغوی خارجيان بلل کيږي. او هر هغه چه پر ديني مشرانو طعن وهي هم داسي دی».

وَانْظُرْ إِلَىٰ إِلَٰهِكَ الَّذِي ظَلْتَ عَلَيْهِ عَاكِفًا ۖ لَّنُحَرِّقَنَّهُ ثُمَّ لَنَنسِفَنَّهُ فِي الْيَمِّ نَسْفًا ﴿٩٧﴾

وګوره معبود خپل ته دی هغه چه وی ته په عبادت د هغه کښې محکم ولاړ (چه خسی دی) خامخا سوځوو مونږ هرومرو (خامخا) هغه بيا به ئی بادوو، تار په تار کوو په سيند کښې په بادولو، تار په تار کولو سره.

**تفسير:** يعنی ستا سزا خو هم دا شوه. اوس ستا د دروغو معبود کلائين هم ويلی کوم هغه خسی چه تا معبود درولی ؤ ـ او بيا دی پری زړه بايللی ؤ ـ او ورته ناست وی اوس ئی ستا تر سترګو لاندی توتی توتی او تکر تکر کوم او بيا ئی په سخت اور کښې سوځوم ـ او بيا ئی ايره هم د سيند په هوا کښې دوړوم ـ څو دی عابدانو او مينانو ته دغه خبره ښه واضحه او ښکاره شي چه دغو نورو ته به څو سود او زيان ورسوی؟ ـ حال دا چه دی خپل د ځان ساتنه او حفاظت هم نشي کولی.

إِنَّمَا إِلَٰهُكُمُ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ وَسِعَ كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ﴿٩٨﴾

بيشکه هم دا خبره ده چه معبود ستاسی (چه مستحق د عبادت دی) الله دی هغه چه نشته بل معبود مستحق د عبادت مګر هم دی دی چه محيط دی دی پر هر څيز له جهته د علم.

**تفسير:** د باطلو له لری کولو او امحاء سره به موسٰی عليه السلام خپل قوم ته د حق په طرف دعوت کاوه او داسی به ئی ورته ويل چه خسی څه شي دی هيڅ يو شي چه دير لوی هم وی ـ له سره معبود کيدی نشی ـ ربښتين او حقيقی معبود خو هغه يو ذات دی چه ماسواء له هغه څخه د بل هيڅا عبادت عقلاً ـ نقلاً او فطرتاً نه دی جائز ـ او د هغه لامحدود علم هری يوی ذری لره هم محيط دی.

كَذَٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنبَاءِ مَا قَدْ سَبَقَ ۚ

هم داسی (لکه چه د موسٰی قصه مو وکړه تاته) قصی کوو پر تا (یعنی تاته) له اخبارو د هغو امورو چه په تحقیق پخوا تیر شوی دی (له پخوانیو امتو)،

**تفسیر:** یعنی د موسٰی علیه السلام او د فرعون او د هغو د اقوامو د قصی په شان د ډیرو نورو پخوانیو اقوامو واقعات هم مونږ تاته او ستا په وسیله ګردی (تولی) دنیا ته اوروو چه په هغو کښی ډیری فائدی او د تشویق او ترغیب او د تهدید او ترهیب وسائل او وسائط شته مثلاً د علم توفیر ـ د معجزاتو تکثیر ـ د انبیاؤ او د مسلمینو تسلی او ډادینه ـ د عقلمندانو عبرت او تذکیر ـ او د معاندانو په حق کښی تهدید او ترهیب. **وغیر ذلک من الفوائد**

وَقَدْ اٰتَيْنٰكَ مِنْ لَّدُنَّا ذِكْرًا ﴿٩٩﴾

او په تحقیق درکړی دی مونږ تاته خاص له جانبه خپله ذکر (پند چه قرآن دی).

**تفسیر:** یعنی قرآن عظیم الشان مو درکړی دی چه پر دغو عبرت ښوونکو واقعاتو باندی مشتمل دی. (او ښائی چه مومنان ئی ښه ولولی او ښه عمل پری وکړی!).

مَنْ اَعْرَضَ عَنْهُ فَاِنَّهٗ يَحْمِلُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وِزْرًا ﴿١٠٠﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهِ ؕ وَسَآءَ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ حِمْلًا ﴿١٠١﴾

هر څوک چه مخ وګرځوی له دغه (قرآن یا له الله نه په نه ایمان راوړلو سره) پس بیشکه دی به بار کړی (په ځان خپل) په ورځ د قیامت کښی لوی بار (د عذاب) چه تل به وی په دغه (عذاب د لوی بار) کښی او بد دی دوی ته په ورځ د قیامت کښی له جهته د بارولو (عذاب د ګناه د دوی).

**تفسیر:** یعنی له اعراض او تکذیب د ګناهونو کوم بار چه پر دوی باندی باریږی له سره به نه سپکیږی؛ دوی به همیشه تر هغه لاندی وی ـ بیا د هغه پورته کول کوم د خندا او مسخری خبره نه ده؛ څه مهال (وخت) چه دوی دغه د عذاب بد او سخت درانه پیتی پورته کوی؛ نو هلته پوهیږی چه دوی څومره تر یوه درانه پیتی لاندی کیوتلی دی؟

يَوْمَ يُنفَخُ فِي الصُّورِ وَنَحْشُرُ الْمُجْرِمِينَ يَوْمَئِذٍ زُرْقًا ﴿١٠٢﴾

په هغه ورځ کښې چه وپوکل شي (دوهم ځلې) په صور (شپیلۍ) کښې او راجمع به کړو مجرمان (کافران) په دغه ورځ شین سترګی (تور مخی).

**تفسیر:** یعنی د محشر د راوستلو په وقت کښې به ړانده وی، یا ښائی هم داسی د هغوی سترګی به شنی وی چه د خلقو په نظر ښکاره شي ـ په هر حال که ړومبی معنی واخیستله شي نو دغه د یوه خاص وقت ذکر دی ـ بیا به سترګی وپرانستلی شي ـ څو دوزخ او نور ووینی ﴿ وَرَاَ الْمُجْرِمُوْنَ النَّارَ ﴾ جزء ١٥ الآیة ـ (د الکهف ٥٣ آیت ٧ رکوع) ﴿ اَسْمِعْ بِهِمْ وَاَبْصِرْ يَوْمَ يَاْتُوْنَنَا ﴾ جزء١٦ (د مریم ٣٨ آیت ٢ رکوع).

يَتَخَافَتُونَ بَيْنَهُمْ إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا عَشْرًا ﴿١٠٣﴾

چه ورو ورو پټی پټی خبری به کوی په منځ خپل کښې (او داسی به وائی چه) درنګ نه دی کړی تاسی مګر لږی (ورځی په دنیا کښې).

**تفسیر:** یعنی دوی چه له قبره وځی ـ او د آخرت د ورځی هولناک واقعات وګوری ـ او دغه اوږده ورځ ووینی ـ نو د قبر شپی ورته دومره لږی ښکاری چه ته به وائی یوه هفته یا لس ورځی ئی هلته تیری کړی دی ـ بلکه دنیا ډیر ژر پری تیره شوی ده ـ د دی دنیا مزی او خوندونه او اوږده امیدونه ئی ګرد (تول) هیریږی ـ د خپل عمر په خوشی ضائع کیدلو به ندامت کوی یا ښائی د معذرت په ډول (طریقه) به داسی وائی ـ یعنی په دنیا کښې مونږ ته ډیر لږ مدت د هستوګنی موقع راکړی شوی ده ـ او فرصت مو بیخی ونه موند چه آخرت ته مو څه سامان تول کړی وی لکه چه د جزء ٢١ (د روم په ٥٥ آیت ٦ رکوع) کښې ئی فرمایلی دی ﴿ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ يُقْسِمُ الْمُجْرِمُوْنَ مَا لَبِثُوْا غَيْرَ سَاعَةٍ ﴾ الآیة ـ

نَّحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَقُولُونَ

مونږ ښه عالمان یو په هغو اقوالو چه دوی ئی وائی.

**تفسیر:** یعنی پټی خبری هم څمونږ څخه نه پټیږی. هغه پټی خبری او مشوری چه دوی ئی په خپلو منځونو کښې سره کوی ګردی (تولی) مونږ ته ښې معلومی دی.

إِذْ يَقُولُ أَمْثَلُهُمْ طَرِيقَةً إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا يَوْمًا ﴿١٠٤﴾

کله چه ووائی ډیر کامل د دوی له حیثه د روش (چه فکر او عمل دی) چه ځنډ (تاخیر) نه دی کړی تاسی (په دنیا کښې) مګر یوه ورځ.

**تفسیر:** یعنی هغه چه د دوی په منځ کښې زیات عقلمن؛ هوښیار او صائب الرأی وی هغه به وائی خانه! لس ورځی! نه لس ورځی چیری یواځی یوه ورځ ئی وګڼه! ده ته ئی زیات عقلمن او د ښی طریقی خاوند ځکه وویل چه دی به د دنیا په زوال او فناء او د آخرت په دوام او بقاء او د هول په شدت او په نورو شیانو له نورو څخه ښه پوهیدلی وی.

وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْجِبَالِ فَقُلْ يَنسِفُهَا رَبِّي نَسْفًا ﴿١٠٥﴾
فَيَذَرُهَا قَاعًا صَفْصَفًا ﴿١٠٦﴾ لَّا تَرَىٰ فِيهَا عِوَجًا وَلَا أَمْتًا ﴿١٠٧﴾

او پوښتنه کوی له تا نه له (احواله د) غرونو (چه د دوی به څه احوال وی په ورځی د قیامت کښې؟) پس ووایه دوی ته چه تار په تار او تیت ؤ پرک (خواره واره) به کړی دغه (غرونه په شان د غبار) رب ځما په تار په تار کولو سره، پس پری به ږدی دا ځمکه یو تش ډاګ هوار، چه نه به وینی ته په دغه (ځمکه) کښې خکته والی او نه اوچت والی (هیڅ قدر).

**تفسیر:** یعنی د قیامت پر ذکر به د حشر منکرین د استهزاء په ډول (طریقه) وائی. چه د داسی سختو سختو عظیم الشانو غرونو حال احوال به څرنګه کیږی؟ آیا دغه به هم توتی توتی کیږی؟ د دوی په جواب کښې داسی ووایئ چه هو! د الله تعالیٰ د لامحدوده قدرت په مقابل کښې غرونه څه عظمت او حقیقت لری ـ دغه غرونه هم په لږ وقت کښې خاوری ایری کیږی ـ او د غرونو ذرات او بخرکی د تکول شویو وریو په شان په هوا کښې الوځولی کیږی ـ او ځمکه به بیخی صافه او هواریږی چه له سره به هیڅ لوړه اوچته) او ژوره (خکته) نه پکښې لیدله کیږی ـ او د غرونو موانع او سدود بیخی له منځه ورک او صاف او پاکیږی.

يَوْمَئِذٍ يَتَّبِعُونَ الدَّاعِيَ لَا عِوَجَ لَهُ

په دغه ورځ (د قیامت) کښې به متابعت وکړی (دا مخلوق د بلنی) د بلونکی نه به وی کوږوالی له دغی (بلنی د بلونکی څخه)،

**تفسیر:** یعنی هر چیری چه پرښته غر وکړی او هر چیری ئی چه ورغږ کړی؛ ګرد (تول) خلق به سم برابر د غشي او د مردک (ګولۍ) په شان هملته ورځغلی ـ نه به د غږ کوونکی په غږ کښی څه کوږوالی وی او نه د دغو مندو وهونکو په مندو او ورتګ او ځغاسته کښی څه کوږوالی او وړاندی او وروسته لیدل کیږی؛ کشکی دوی په دنیا کښی هم د الله تعالیٰ د داعی او بلونکی پر غږ پسی هم داسی سم برابر تللی ـ او پری په ډیر شوق او ذوق سره غوندیدلی ـ چه هلته ئی څه په ښه او کار ورتلی خو مع‌الاسف دوی دلته له خپلی بدبختی او کږو تلو لامله (له وجی) تل په کږو لیارو ځی او خرابه طریقه ځان ته غوره کوی.

وَخَشَعَتِ الْأَصْوَاتُ لِلرَّحْمٰنِ فَلَا تَسْمَعُ إِلَّا هَمْسًا ﴿١٠٨﴾

او چپ به شي غږونه (له ډیره هیبته) دپاره د رحمٰن پس نه به اوری ته مګر کښیهار د قدمونو.

**تفسیر:** یعنی د محشر د ورتګ په وقت کښی پرته (علاوه) د پښو د کښیهار او د ورو غږه بل هیڅ یو غږ او آواز نه آوریده کیږی او د الله تعالیٰ د خوف او هیبت لامله (له وجی) بل هیڅ یو غږ او غوږ به نه وی که څوک څه وائی هم خو دغومره ورو ورو به ئی وائی چه ایله به ئی شوندی خوځیږی او بل هیڅ شی تری نه څرګندیږی (ښکاریږی).

يَوْمَئِذٍ لَّا تَنفَعُ الشَّفَاعَةُ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمٰنُ وَرَضِيَ لَهُ قَوْلًا ﴿١٠٩﴾

په دغه ورځ (قیامت) کښی نه رسوی فائده شفاعت (هیچا ته) مګر هغه چاته چه اذن کړی دی د هغه په حق کښی رحمٰن (چه شفاعت ئی وکړ شي) او راضي دی (الله) له دغه (مشفوع شخصه) له حیثیته د وینا (چه کلمه د توحید ده).

**تفسیر:** یعنی د هغه سپارش چلیږی چه ورته د الله له طرفه د سپارش اجازت ورکړی شوی وی د هغه شافع وینا د پاک الله خوښه وی ـ او خورا (ډیر) ښی خبری ئی ویلی وی ـ او د داسی سړی سپارش وکړی چه د هغه مشفوع خبره ﴿لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ﴾ د پاک الله په نزد خوښه او پسنده شوی وی د کفارو په حق کښی د هیچا سعی او سپارش له سره په درد نه خوری او نه چلیږی.

يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِ عِلْمًا ﴿١١٠﴾

عالم دی الله په هر هغه څه چه په منځ کښی د دوی وی (له اخروی امورو) او هر هغه څيز چه پسی شا د دوی دی (د دنيوی امورو) او نه به شی احاطه کولی دوی په (ذات او په معلوماتو) د دغه (الله) له جهته د علم.

**تفسير:** يعنی د الله تعالیٰ علم پر ګردو (تولو) محيط دی. ليکن د بندګانو علم پر الله تعالیٰ يا د الله تعالیٰ پر معلوماتو محيط او چاپير نه دی ـ نو ځکه هم ده ته پخپل محيط علم معلوم دی چه چاته د چا د شفاعت دپاره ښائی موقع ورکړه شی.

وَعَنَتِ الْوُجُوهُ لِلْحَيِّ الْقَيُّومِ ط

او ذليل شول (خاوندان د) مخونو هغه تل ژوندی قائم تدبير والا د عالمو ته؛

**تفسير:** يعنی په دغه ورځ کښی به د هغو لويو لويو سرکښو متکبرانو سرونه هم په ښکاره دول (طريقه) سره د دغه حی او قيوم الله په دربار کښی د ډيرو ذليلو او سپکو بنديانو په شان ښکته او ټيټ کيږی چه هغوی پخوا له دی نه له سره د الله تعالیٰ په مقابل کښی خپل سرونه نه وو ټيټ کړی؛ په دغه وقت کښی به په ډيری عاجزی سره خپلی غاړی ږدی.

وَقَدْ خَابَ مَنْ حَمَلَ ظُلْمًا ﴿١١١﴾

او په تحقيق خراب نااميده شو هر هغه څوک چه پورته ئی کړ بار د ظلم

**تفسير:** يعنی د ظالمانو له حاله بيخی پوښتنی مه کوه! چه څنګه خراب به وی د ظلم په لفظ کښی شرک او نور معاصی هم داخل دی. لکه چه د لقمان د سورت په (٢) رکوع (١٣) آية (٢١) جزء کښی راغلی دی ﴿ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ﴾ او د جزء ٤ د آل عمران په ١٣٥ آيت (١٤) رکوع) کښی ﴿ وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ ﴾ لولو ـ د هر يوه ظالم خرابی به د ده د ظلم له درجی سره موافقه وی.

وَمَن يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا يَخَافُ ظُلْمًا وَلَا هَضْمًا ﴿١١٢﴾

او هر څوک چه وکړی له ښو (عملونو) حال دا چه وی دی مؤمن پس نه ويريږی (دی په آخرت کښی) له ظلم بی انصافی او نه له نقصان.

**تفسیر:** داسی بی انصافی چه کومه نیکی ئی ضائع کړه شی ـ یا په هغه ګناه ئی ونیسی چه ئی نه وی کړی او نقصان رسونه داسی چه له استحقاقه لږ ثواب او بدل ورکړ شی.

وَكَذٰلِكَ أَنزَلْنٰهُ قُرْءَانًا عَرَبِيًّا وَصَرَّفْنَا فِيهِ مِنَ الْوَعِيدِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ أَوْ يُحْدِثُ لَهُمْ ذِكْرًا ﴿١١٣﴾

او هم داسی (لکه چه قصه مو وکړه د انبیاؤ او اممو او د قیامت) نازل کړی دی مونږ دغه کتاب قرآن په عربی (ژبه) او بیا بیا راوړی دی مونږ په دی قرآن کښې له آیاتونو د وعید (مکرر) دپاره د دی چه دوی پرهیز وکړی یا پیدا کړی دغه (قرآن) دوی ته ذکر (پند او تری عبرت واخلی).

**تفسیر:** یعنی لکه چه دلته د محشر احوال او د هغه د نیکو او بدو نتائج صاف صاف اورولی شوی دی. هم داسی مونږ پوره قرآن په صافی عربی ژبی سره نازل کړی دی څو هغه خلق چه د ده ړومبنی مخاطبان دی د هغه له لوستلو له الله تعالیٰ څخه وویریږی ـ او د تقویٰ لیاره غوره کړی ـ او که سم د لاسه داسی ونشی ـ نو اقلا د دوی په زړونو کښې د عاقبت او انجام څه فکر ـ غور او اندیښنه خو پیدا شی ـ ممکن دی چه هم دغه غور او فکر ورو ورو ترقی او تزئید ومومی ـ او دوی د هدایت په لیاره راولی ـ او د دوی په وسیلو نورو ته هدایت ور په برخه شی.

فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ

نو لوی اوچت دی الله (په ذات او صفاتو خپلو کښې له تولو عیبونو او نقصاناتو) چه پادشاه دی (د پاچاهانو) حق دی (وعد او وعید د ده)

**تفسیر:** یعنی هغه پاک الله چه داسی عظیم الشان قرآن نازل فرمایلی دی او خپلو بندګانو ته ئی داسی رښتیاء صافی ـ سمی ـ اساسی ـ خبری د دوی د فائدی دپاره اورولی دی.

وَلَا تَعْجَلْ بِالْقُرْءَانِ مِن قَبْلِ أَن يُقْضٰى إِلَيْكَ وَحْيُهُۥ وَقُل رَّبِّ زِدْنِى عِلْمًا ﴿١١٤﴾

او تلوار مه کوه ته (ای محمده !) په (لوستلو د ) قرآن پخوا له هغه چه پوره کړه شي تاته وحی د ده او ووایه (ای محمده ) ای ربه ځما زیات کړی ما له جهته د علمه.

تفسیر: یعنی هر کله چه پاک قرآن داسی مفید او عجیب شیز دی نو هم هغسی چه مونږ هغه په تدریج ورو ورو پر تا نازلوو ـ ته هم د هغه په اخیستلو کښی له جبرئیل علیه السلام څخه تلوار او جلتی مه کوه ! څه مهال چه پرښته وحی درآوروی ته ئی په عجلت له هغی سره مه لوله؛ ځکه چه مونږ د دغی خبری عهد او پیمان درسره کړی دی ـ چه نه به ئی پریږدو عظیم الشان قرآن د تا له سینی څخه ووځی ـ نو ته ولی په دغه فکر او اندیښنه کښی ځان ربړوی (تکلیف ورکوی)؛ نه چه د پاک قرآن کوم توری له ما څخه هیر شي ـ بلکه د دغه فکر په ځای داسی دعاء وکړه چه ای الله تعالیٰ د قرآن لا زیاته پوه او له حده زیاته علوم او معارف راته عطاء کړه ! وګوره چه آدم علیه السلام په یوه شیز کښی بی موقع تعجیل کړی ؤ ـ د هغه انجام څنګه شو. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «څه مهال (وخت) چه جبرئیل علیه السلام به قرآن راوړ نو محمد صلی الله علیه وسلم به د جبرئیل علیه السلام د لوستلو سره یو ځای هغه لوست او د دی یو ځای لوستلو څخه ئی مقصد دا ؤ چه راڅخه هیر نشي ـ له دی نه ئی پخوا هم منع فرمایلی وه ـ لکه چه په ۲۹ جزء د قیامت سورت په (١٦-١٧) آیة (١) رکوع کښی راغلی دی ﴿ لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ ﴾ او تسلی ئی ورکړی وه چه د قرآن دریادول ـ او د هغه رسونه نورو خلقو ته ستاسی په وسیله ځمونږ په ذمه ده ـ لیکن د بشریت په مقتضاء ښائی چه دغه توصیه ئی هیره شوی وی نو ځکه ئی په دغه آیت سره تقیید وفرمایه ـ او په دغه هیریدلو باندی ئی وروسته د « آدم علیه السلام» مثل هم بیان وفرمایه.

وَلَقَدْ عَهِدْنَآ إِلَىٰٓ ءَادَمَ مِن قَبْلُ فَنَسِيَ وَلَمْ نَجِدْ لَهُۥ عَزْمًا ﴿١١٥﴾

او خامخا په تحقیق حکم کړی ؤ مونږ آدم ته پخوا له دی نه پس هیر ئی کړ (هغه حکم) او ومونه موند ده ته استقامت (صبر له منهی عنه) څخه.

تفسیر: هغه دی چه دانه ئی خوړلی وه ـ او د مخه حکم ئی هیر کړی ؤ یعنی قائم پاتی نشو ـ وروسته له دی د دغی قصی لږ تفصیل راځی.

وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوٓا إِلَّآ إِبْلِيسَ ۖ أَبٰى ﴿١١٦﴾ فَقُلْنَا يٰٓاٰدَمُ إِنَّ هٰذَا
عَدُوٌّ لَّكَ وَلِزَوْجِكَ فَلَا يُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ الْجَنَّةِ فَتَشْقٰى ﴿١١٧﴾

او ياد کړه هغه وقت چه وويل مونږ پرښتو ته چه سجده وکړئ (تعظيماً) آدم
ته پس سجده وکړه (ټولو) مګر (سجده ونه کړه) ابليس؛ چه منع ئې راوړه
پس وويل مونږ اې آدمه بيشکه دا (ابليس) دښمن ستا دی او (دښمن) د
ښځې ستا دی پس خبردار ودې نه باسي خامخا تاسي له جنته (په سبب د
وسوسې او فريب) پس په مشقت کښې به پريوځې.

**تفسير:** ظاهر دی چه د جنت آرامې او هوسائی (خوشالی) په بل کوم ځای کښې ميسر کيدی
نشی او پرته (علاوه) له جنته پر هر ځای کښې د خوړلو او څښلو؛ اغوستلو او د نورو ضرورياتو
تدابيرو او ضرورياتو ته خامخا انسان ربړ ګالی (تکليف برداشت کوی) او مشقت پر ځان آخلی.

إِنَّ لَكَ أَلَّا تَجُوعَ فِيهَا وَلَا تَعْرٰى ﴿١١٨﴾ وَأَنَّكَ لَا تَظْمَؤُا فِيهَا وَلَا تَضْحٰى ﴿١١٩﴾

بيشکه مقرر دی تاته چه نه به وږی کيږی په دی (جنت) کښې او نه به بربنډ
کيږی. او بيشکه ته به نه تږی کيږی په دغه جنت کښې او نه به دی ګرمی
کيږی.

**تفسير:** د انسانی له مهمو ضرورياتو څخه خوړل - څښل - اغوستل او د هستوګنی داسی ځای
دی چه سرې پکښې له لمر - باران - باد او نورو اضرارو څخه مأمون او مصئون وی - په جنت
کښې داسی تکاليف له سره نشته - او په جنت کښې له هر حيث او هر جهت څخه آرامې -
راحت - طمانيت - امنيت - سکون او نور ګرد (ټول) په زړه پوری وسائل او وسائط شته. دلته
ئې د راحت ذکر ونه فرمايه يواځې ئې د تکاليفو له نفی کولو څخه ښائې داسی تنبيه او ايقاظ
مقصود وی چه د جنت د وتلو څخه وروسته تاسی له دغو ګردو (ټولو) شيانو سره مخامخ
کيدونکی او د دغو ګردو (ټولو) ربړو ګالونکی (تکليفونو برداشت کوونکی) يئ!.

فَوَسْوَسَ إِلَيْهِ الشَّيْطٰنُ قَالَ يٰٓاٰدَمُ هَلْ اَدُلُّكَ عَلٰى شَجَرَةِ الْخُلْدِ وَمُلْكٍ لَّا يَبْلٰى ﴿١٢٠﴾

پس وسوسه واچوله دغه (آدم) ته شیطان (داسې چه ورته) وې ویل ای آدمه آیا دلالت وکړم تاته په ونه د تل ژوندی پاتې کیدلو او په پاچاهی چه نه زائلیږی (او تل پاتې کیږی).

تفسیر: یعنی داسې ونه دروښیم چه د هغې د میوې له خوړلو څخه مو ابدی ژوندون په برخه شی ـ او له سره مړه نشئ ـ او بې زواله پاچاهی به مو په برخه شی.

فَاَكَلَا مِنْهَا فَبَدَتْ لَهُمَا سَوْاٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفٰنِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَّرَقِ الْجَنَّةِ

پس وخوړله دوی دواړو له (میوې) د دغې ونې پس ښکاره شول دوی ته غلیظه عورات د دوی او شروع وکړه دواړو چه نښلولې پورې کولې دواړو پر ځان پورې له پاڼو د(ونې) د جنت (لپاره د ستر)

تفسیر: دغه ګرده (توله) قصه په «الاعراف» او نورو سورتونو کښې مفصله تیره شوې ده ـ د هغو په فوائدو کښې دی وکتله شی موږ هلته د دی پر اجزاؤ کافی او شافی کلام کړی دی.

وَعَصٰٓى اٰدَمُ رَبَّهٗ فَغَوٰى ﴿١٢١﴾ ثُمَّ اجْتَبٰهُ رَبُّهٗ فَتَابَ عَلَيْهِ وَهَدٰى ﴿١٢٢﴾

او نافرمانی وکړه آدم (له حکم) د رب خپل (په سبب د هیرولو د حکم د الله یا په اجتهادی خطا سره) پس چپ شو (له مطلوبه د خلوده) بیا غوره کړ دغه (آدم) لره رب د ده پس رجوع وکړه (الله) په آدم په قبول د توبې سره او هدایت ئې ورته وکړ (په ثبات او استقامت سره په توبه باندی او لیاره ئې ورته وښودله د ثبات)

تفسیر: یعنی کله چه د الله تعالیٰ د حکم په امتثال کښې قصور وشو او سم له خپله شانه سره د عزم او استقامت پر لیاره ثابت قدم نشو پاتې ـ نو هم دغه ئې په غوایت او عصیان سره تغلیظاً

تعبير وفرمايه سم د «حسنات الابرار سيئات المقربين» له قاعدى سره ـ د دى بحث پخوا له دى نه هم تير شوى دى يعني د شيطان تسلط ئى پرى نښود، بلكه فوراً ئى ورته د توبى توفيق وباښه ـ او سره له زياتى پر زياتى مهربانى د ده په طرف متوجه شو ـ او د خپلى خوښى پر لياره ئى قائم كړ.

قَالَ اهْبِطَا مِنْهَا جَمِيعًا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ

وفرمايل (الله) چه كوز شئ دواړه له دغه جنته (يا له آسمانه) تول ځينى د تاسى د ځينو نورو دښمنان يئ!

**تفسير: كه دغه** خطاب يواځى د آدم او حوا عليهما السلام په لورى وى مراد به ئى داسى وى چه د دوى اولاده به په خپلو منځونو كښى سره دښمنان وى ـ لكه چه په رفاقت سره ئى گناه كړى وه د هم هغه رفاقت په بدل دا ور په برخه شو چه اولاده ئى پخپل منځ كښى سره دښمنان شول ـ او كه دغه خطاب د ابليس او آدم عليه السلام په لورى وى. نو مقصد به ئى داسى وى چه د دواړو په ذرياتو كښى به دغه دښمنى برابره قائمه پاتى كيږى ـ شياطين به تل د بنيادمانو د ضرر رسولو په فكر كښى وى.

فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ مِنِّي هُدًى فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقَىٰ ﴿١٢٣﴾

پس كه راغى تاسى ته له طرفه ځما هدايت (چه كتابونه او رسولان دى) پس هر چا چه متابعت وكړ د هدايت ځما پس نه به گمراه كيږى (په دنيا كښى) او نه به بدبخت شي (په عقبىٰ كښى).

**تفسير:** يعني نه د جنت له ليارى څخه گمراه او بى ليارى كيږى او نه له هغه څخه محروميږى او تكليف او رېړ (زحمت) به وگالى (برداشت كړى) له هغه اصلى وطنه چه راغلى دى بيا به بيرته بى انديښنى او خرخشى (وسوسى) همله ته ور ورسيږى.

وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكًا

او هر چا چه مخ وگرځاوه له ذكره (پنده) ځما پس بيشكه ده ته دى معاش تنگ (په دنيا يا سخت عذاب په قبر كښى).

**تفسير:** یعنی هغه انسان چه د الله تعالیٰ له یاده غافل او محض د دغی فانی دنیا ژوندون د خپل مقصود قبله وگنی او وئی گرځوی د هغه گزران به مکدر او تنگ کړ شی ـ اگر که په سترگو له ده څخه ډیر مال او دولت او د عیش او عشرت سامان لیده کیږی مگر کله چه د ده زړه د قناعت او توکل د خلاء له وجی تل د دنیا د حرص او د ترقی په فکر کښی اوسیږی او د تقلیل له اندیښنی څخه تل نا آرامه وی ـ او تل د «شلو په سلو کول او ژر ئی زر ته رسولو» په چرتونو کښی ډوب تللی وی د موت یقین او د دولت د خطراتو اندیښنه د ده د روح سوهان په شان معامله کوی ـ د یورپ او امریکاء اکثرو متنعمینو ته وگورئ چه ځینی له هغو په شپه ورځ کښی تش دری ساعته او ځینی خوش قسمتان څلور پنځه ساعته ایله اوده کیږی. لوی لوی کروړپتیان او ملیونران د دنیوی مصائبو او مخمصو له لاسه چه کله په تنگ شی نو مرگ ته پر خپل ژوندون ترجیح ورکوی ـ او د دی نوعی خپل ځان وژلو او خودکشی مثالونه زیات مونده کیږی ـ نصوص او تجربی په دی باندی شاهدی دی چه په دغه دنیا کښی قلبی سکون او حقیقی اطمینان هیچا ته بی د الله تعالیٰ له یاده نه حاصلیږی ﴿ أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ ﴾

دیری ښی خوږوبی دی زړونو ته ښه خوښی ښښی
خوند به ئی څوک نه مومی څو ئی چه ونه څښی

ځینی مفسرین د «معیشة ضنکا» معنی داسی کوی هغه ژوندون چه پکښی خیر نشی داخلیدی گواکی د خیر اخیستلو څخه پخپل ځان کښی تنگ شوی دی ـ ظاهر دی چه داسی یو کافر چه په دنیوی نشو کښی مست وی ـ د هغه گرد (تول) مال ـ دولت ـ د عیش سامان ـ د عشرت وسائل ـ د تنعم اسباب به د ده په حق کښی د ځان وبال گرځی. د هغی خوښی او خوشالی پای او انجام به څه وی؟ چه څو ورځی وروسته به ئی تباهی وی؛ هغی ته چیری ښائی چه سری خوښی یا خوشالی ووائی.
ځینی مفسرین له «معیشة ضنکاً» نه د قبر برزخی ژوندون مرادوی ـ یعنی پخوا له قیامته پر ده د سختی تنگی دوره راتلونکی ده څه مهال چه د قبر ځمکه هم پری تنگه کړه شی.
د «معیشة ضنکاً» تفسیر ځینو کرامو اصحابو په عذاب القبر سره هم کړی دی. بلکه (بزار رحمة الله علیه) په جیدو اسنادو سره له (ابو هریرة رضی الله تعالیٰ عنه) نه مرفوعاً روایت کړی دی په هر حال د «معیشة ضنکاً» لاندی دغه گرد (تول) صورتونه داخلیدی شی (والله اعلم).

وَّنَحْشُرُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَعْمٰى ﴿١٢٤﴾

او پورته به کړو مونږ دی (له قبره او محشر ته به ئی راولو) په ورځی د قیامت کښی ړوند.

**تفسیر:** یعنی په سترګو ئې ړندوی او بیا ئې د محشر په لوری بیائی او په زړه سره به هم ړوند وی چه د هیڅ حجت په طرف به لیاره نه مومی ـ دغه د حشر د ابتدائی مرحلې ذکر دی وروسته به ئې سترګې خلاصیږی ـ څو د دوزخ او نورو اخروی اهوالو معاینه وکړی شی.

قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِيٓ أَعْمَىٰ وَقَدْ كُنتُ بَصِيرًا ﴿١٢٥﴾

وبه وائی (دغه ړوند کافر) ای ربه ځما ولی دی پاڅولم (راوستلم) زه ړوند حال دا چه په تحقیق زه وم بینا (په دنیا کښې).

**تفسیر:** یعنی هغه کافران چه په دنیا کښې د ظاهری سترګو خاوندان او په آخرت کښې ړومبی ړانده محشور کیږی ـ په تعجب او حیرت سره به سوال کوی (آخر له مونږه څه ګناه او قصور صادر شوی دی چه د هغه په بدل ځمونږ سترګې راڅخه اخیستی شوی دی؟).

(نو وبه فرمائی پاک الله د عذاب د پرېښتې په ژبه د دوی په جواب کښې)

قَالَ كَذَٰلِكَ أَتَتْكَ ءَايَٰتُنَا فَنَسِيتَهَا ۖ وَكَذَٰلِكَ ٱلْيَوْمَ تُنسَىٰ ﴿١٢٦﴾

وفرمایل (الله) هم داسې ؤ (لکه چه ته ئې وائې) خو راغلې ؤ تاته آیتونه ځمونږ پس هیر کړل تا هغه او په مثل (د هغو هیرولو ستا) نن ورځ هیر به کړ شې ته هم پرېښود به شې ته په عذاب کښې.

**تفسیر:** یعنی په دنیا کښې سره له دې چه ځمونږ د قدرت دلائل او نښې مو لیدی او اوریدی خو نه مو پرې یقین او نه مو پرې عمل وکړ او داسې مو ځان ترې بیخبره او ناکاره کړ چه ګواکې د هیڅ خبره مو نه اوریدلې او نه لیدلې وه؟ نو نن د هغه په بدل تاسې هم داسې هیرولې شئ لکه چه هلته مو له ځانونو خپلو څخه ړانده جوړ کړی ؤ ـ نو اوس دلته د هغه د مناسبې سزا مونډلو او له خپلو ړانده پاڅیدلو او ړانده محشور کیدلو نه ولې حیرت او تعجب کوئ؟

وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي مَنْ أَسْرَفَ وَلَمْ يُؤْمِنۢ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِۦ ۚ

او په مثل د هم دې جزا ورکولو (ځمونږ دغو کفارو ته) جزا ورکوو مونږ هغه ته چه له حده ووت او ایمان ئې رانه وړ په آیتونو د رب خپل؛

تفسیر: یعنی هم داسی هر یوه مجرم ته به سم د هغه د حال په مناسبت سزا ورکوله کیږی.

وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَشَدُّ وَاَبْقٰى ﴿١٢٧﴾

او خامخا عذاب د آخرت ډیر سخت دی او ډیر باقی پاتی کیدونکی دی.

تفسیر: نو څکه ډیر لوی حماقت به وی چه د دی ځای له تکلیفه ووېرېږو او د هغه ځای د عذاب د نجات فکر ونه کړو ـ حضرت شاه صاحب لیکی «یعنی دغه د ړندولو عذاب په حشر کښی دی او په دوزخ کښی لا زیات».

اَفَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنَ الْقُرُوْنِ يَمْشُوْنَ فِىْ مَسٰكِنِهِمْ

آیا پس نه دی ښکاره شوی (دغو کفارو ته دا) چه ډیر هلاک کړی دی مونږ پخوا له دوی نه له اهل د زمانو چه ځی تیریږی دوی په (تشو) کلیو (منازلو) ځایونو د دوی کښی

تفسیر: یعنی که پر هغه سزا چه دوی ته په آخرت کښی ورکوله کیږی متیقن نه وی نو آیا د تاریخی واقعاتو څخنی هم څه پند او عبرت نه آخلی د هم دغو مکیانو په شاوخوا کښی ځومره اقوام د خپل کفر او طغیان لامله (له وجی) تباه او برباد شوی دی چه د هغوی قصی او افسانی د خلقو پر ژبو لا تراوسه جاری دی. او د هغوی له منځه د ځینو پر کندوالو او خرابو کلیو او ویجاړو ځایونو د شام او د نورو ملکونو د مسافرانو نظر هم لوېږی او دوی پری تیریږی چه د هغو له لیدلو څخه ښائی د هغو اقوامو حالات مو در په یاد شی چه څرنګه هغوی په داسی حال کښی چه پر دغو ځایونو کښی ګرځیدل او لاندی باندی کیدل هلاک او تباه کړل شول.

اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّاُولِى النُّهٰى ﴿١٢٨﴾ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَكَانَ لِزَامًا وَّاَجَلٌ مُّسَمًّى ﴿١٢٩﴾

بیشکه په دغه (اهلاک د منکرینو) کښی خامخا ډیر دلائل (د عبرت دی) خاوندانو د عقلونو ته. او که چیری نه وی هغه وینا چه پخوا ویلی شوی ده

(له طرفه) د رب ستا (په تاخير د عذاب سره) نو خامخا ؤ به دغه (هلاک د دوی) لازم (له دوی سره) او كه نه وی اجل (نیته) معلومه (د عمر د دوی نو به دوی معذبیدل په دنیا کښې).

**تفسير:** یعنی د الله تعالیٰ رحمت پر غضب سابق دی نو ځکه مجرم ته تر ډیر وقت پورې د اصلاح موقع ورکوی او د پوره حجت له اتمام څخه ئې ماسواء نه هلاکوی بلکه د دی امت په متعلق ئې دا هم فرمایلی دی ﴿ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيهِمْ ﴾ الآية ـ او له خپلې خاصې مهربانی عمومی مستأصل عذاب ئې له دغه امت څخه لرې کړی دی ـ دغه خبره ده چه ستا د رب له طرفه صادره شوی ده ـ که داسی نه وی او د هر مجرم قوم د عذاب دپاره يو خاص وقت مقرر نه وی نو په لازمی ډول (طریقه) به دوی په عذاب اخته کیدل ـ ځکه چه د دوی د کفر او شرارت مقتضی هم داسی ده چه بنائی علی الفور هلاک کړل شی ـ صرف پاس مذکوره مصالح مانع دی چه په هغو کښې لږ توقف واقع شوی دی آخر په قیامت کښې به د عظیم عذاب خوند وڅکی ـ او کله چه وقت راشی نو په دنیا کښې به هم د هغه زورور جنګ نمونه وګوری. لکه چه د «بدر» په غزوه کښې دوی له مسلمانانو سره تصادم وکړ او د هغه یوه وړوکی نمونه ئې ولیده.

فَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُولُوْنَ

پس صبر کوه (ای محمده) پر هغو خبرو چه دوی ئې وائی

**تفسير:** یعنی عذاب په خپل مقرر وقت کښې خامخا واقع کیدونکی دی ـ دوی د دغه تاخیر او امهال د لیدلو څخه هومره چتی(فضول) او چپوله خبری چه کوی ودی کړی ـ تاسی سم د لاسه دغه ګردی (تولی) خبری په ډیر صبر او استقامت سره واورئ! او په ډیر صبر او سکون د وروستنی نتیجی په انتظار کښې اوسئ ـ د کفر پر دغو کلماتو له حده زیات مضطرب کیدلو ته هیڅ ضرورت نشته. (دغه آیت منسوخ دی په آیت د سیف سره).

وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوْبِهَا

او تسبیح وایه سره له حمد، ثناء د رب خپل (لمونځ کوه) پخوا له ختلو د لمر (د سحر لمونځ) او پخوا له پریوتلو د دغه (لمر د ظهر او عصر لمونځ)،

**تفسير:** دغه د فجر او عصر لمونځونه شول. یعنی د احمقانو او شریرانو خبرو ته له سره غوږ مه ږدئ! او مه چرت پری خرابوئ! په ډیر صبر او سکون سره د خپل الله تعالیٰ په عبادت کښې

مشغول او لګیا اوسیږ! ځکه چه د الله تعالیٰ مدد له دوو شیانو حاصلیږی چه هغه صبر او صلوٰة دی کما قال الله تعالی ـ ﴿ وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَوٰةِ ﴾ الآیة ـ

وَمِنْ آنَآئِ الَّيْلِ فَسَبِّحْ

او په ځینو اوقاتو کښی له ساعتونو د شپی پس تسبیح وایه (لمونځ ادا کړه د مغرب او عشاء)

تفسیر: په دغه کښی مغرب او عشاء بلکه د ځینو تفاسیرو له روایته سره سم د تهجد لمونځ هم داخل دی.

وَأَطْرَافَ النَّهَارِ

او په دواړو څنګو (اطرافو) د ورځی کښی (پر لمانځه ډیره توجه ولره یا په دغو اوقاتو کښی تسبیح سره له حمده وایه)

تفسیر: دغه د (جمعی او د) ظهر لمونځ شو ـ ځکه چه په دغه وقت کښی د ورځی د اول نصف او د آخر نصف سره یو ځای کیږی ـ بلکه په صحاح او قاموس او نورو کښی تصریح شوی ده چه «طرف» «طائفة من الشئ ـ طرف د کوم شی حصی ته وائی» او د خاص حد او د څنډی په معنی نه دی په دغه صورت نهار جنس منلی کیږی او د هری ورځی هغه یوه خاصه برخه تری مراد کیدی شی چه هلته ورځ نیمائی کیږی.

لَعَلَّكَ تَرْضَىٰ ﴿١٣٠﴾

ښائی چه ته به راضی شی (له الله په اجر)

تفسیر: یعنی که داسی د عمل طرز ولری نو تل به په دنیا او آخرت کښی خوښ او راضی اوسیږی ـ د دغه ډیر لوی اجر به در رسیږی. او له امت سره به دی مرسته (مدد) وشی په دنیا کښی ـ او مغفرت به وی په آخرت کښی ستا په شفاعت چه د هغه له لیدلو څخه به ته خوښیږی.

وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِ أَزْوَاجًا

مِنْهُمْ زَهْرَةَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۙ لِنَفْتِنَهُمْ فِيْهِ ؕ وَرِزْقُ رَبِّكَ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى ﴿١٣١﴾

او مه اوږدوه (نظر د) سترګی خپلی (یعنی مه ئی اړوه) هغه څیز ته چه نفع ورکړی ده مونږ په هغه څیز سره چه قسما قسم دی دغو (کفارو) ته ښائست د ژوندانه لږ خسیس دپاره د دی چه وازمایو دوی په دی کښی؛ او رزق روزی د رب د تا (چه تاته ئی درکړی له نبوته علمه بهتر ډیر غوره) خیر او اوږده ده (له دنیوی نعماؤ څخه).

تفسیر: (شیخ الهند رحمة الله علیه د دی آیت ترجمه داسی کړی ده «او مه اړوه دواړه سترګی خپلی هغه څیز ته چه نفع ورکړی ده مونږ په هغه سره قسما قسمو ته له خلقو ښائست د ژوندانه لږ خسیس» الخ) یعنی په دنیا کښی قسم قسم کافرانو مثلاً یهودانو ـ نصرانیانو ـ مشرکانو ـ مجوسیانو او نورو ته مونږ د عیش او تنعم کوم سامان چه ورکړی دی د هغو په طرف خپلی سترګی مه غروئ او له سره مه ورته ګورئ! (لکه چه تر اوسه مو هم هغو ته نه دی کتلی) دغه تش د څو ورځو عشرت او پسرلی دی چه مونږ د هغه په وسیله د هغوی امتحان آخلو چه کوم یو احسان منونکی دی؟ او کوم یو غاړه غړونکی دی؟ هغه عظیم الشان دولت چه الله تعالیٰ تاته (ای محمده صلی الله علیه وسلم!) مقدر کړی دی ـ مثلاً عظیم الشان قرآن ـ د رسالت منصب ـ عظیمه فتوحات ـ رفع الذکر، د نامه لوړیدل ـ او د آخرت اعلیٰ مراتب د هغوی په مقابل کښی دغه فانی او حقیر سامان څه حقیقت لری ستاسی په برخه کوم دولت چه راغلی دی هغه له دغو دولتونو څخه ډیر ښه او بهتر دی او فی نفسه یا د خپل اثر په اعتبار تل باقی پاتی کیدونکی دی. په هر حال نه تاسی له دغه تکذیب او اعراض څخه مضطرب شئ! ـ او نه د دغو سازو او سامانونو او مالونو او دولتونو په طرف د التفات په نظر وګورئ!

وَاْمُرْ اَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا ؕ

او امر کوه په اهل (بیت یا په اهل دین) خپل په کولو د لمانځه او ته هم کلک پری ولاړ اوسه؛

تفسیر: یعنی خپلو متعلقینو او اتباعو ته د لمانځه تاکید وکړئ! په حدیث کښی راغلی دی «کله چه وړوکی مو اوه کلن شی (د اعتیاد لامله) پر دوی لمنځونه کوئ! او څه مهال چه نهه کلن شی (که په ورو ورو ئی ونه منی) په وهلو سره پری لمونځ کوئ»
(مطلب دا چه هم خپل متعلقین پر لمانځه ودروه! او هم ته پخپله پر لمانځه صبر کوه او هیڅ مه غمجن کیږه په کار د رزق کښی څکه چه)

## لَا نَسْـَٔلُكَ رِزْقًا ۖ نَحْنُ نَرْزُقُكَ ۗ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوٰى ﴿١٣٢﴾

نه غواړو مونږ له تا څخه روزي (نه ستا او نه د اهل ستا بلکه) مونږ رزق روزي درکوو تاته او عاقبت ښه خاتمه خاوندانو د پرهيزګارۍ ته ده.

**تفسير:** په دنيا کښې مالکان پر خپلو مريو باندې روزي ګټي دغه مالک الملک يواځې بندګي غواړي او خپلو مريو ته په خپله روزي ورکوي (کذا في الموضح) الغرض څمونږ له لمانځه څخه هغه ارفع او اقدس ذات ته هيڅ يوه فائده نه رسيږي بلکه د لمانځه څخه فائده هم مونږ ته عائده ده او د لمانځه له برکته په ښه شان سره روزي رارسيږي ﴿وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا ۝ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ﴾ «٢٨ جزء د الطلاق (٢-٣) آية (١) رکوع» د هم دې لپاره دي

که د فرض لمانځه او د معاش په کسب کښې څه تعارض واقع شي الله تعالىٰ داسې اجازه نه کوي چه د معاش د کسب په مقابل کښې لمونځ ترک کړی! په هر حال ښائي چه هرومرو (خامخا) لمونځ اداء کړ شي روزي رسوونکی هم هغه الله دی چه د هغه په حکم سره لمونځ کوو ـ الحاصل د معاش د کسب د هغو ذرائعو حکم الله تعالىٰ نه دی صادر کړی چه د عبوديت د فرائضو په اداء کښې مخل او مزاحم واقع شي. انسان ته ښائي چه تقوىٰ او پرهيزګاري اختيار کړي په پای کښې دی وګوري چه الله تعالىٰ په څه دول (طريقه) له ده سره معاونت او امداد کوي؟

## وَقَالُوا لَوْلَا يَأْتِينَا بِآيَةٍ مِّن رَّبِّهِ ۚ

او وائي (کفار) ولې نه راوړي محمد صلى الله عليه وسلم مونږ ته يوه معجزه (له طرفه) د رب خپل چه (مونږ ئې غواړو په تصديق د نبوت خپل)؟

**تفسير:** يعني کومه داسې يوه ښکاره معجزه او نښه ولې نه راښيي چه د هغې په ليدلو سره مونږ ته بيخي د انکار او تردد موقع نشي پاتي که نه د دغومره ور څينو ويرولو او تخويفاتو څخه څه ګټه (فائده) حاصليږي؟

## أَوَلَمْ تَأْتِهِم بَيِّنَةُ مَا فِي الصُّحُفِ الْأُولَىٰ ﴿١٣٣﴾

آيا نه دی راغلی دوی ته مصدق دليل برهان د هغه شي چه په کتابونو پخوانيو کښې ؤ.

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب لیکی «یعنی په پخوانیو کتابونو کښې د آخری زمانی د رسول خبر دی یا دا معنی چه د پخوانیو انبیاؤ معجزی کافی دی. دغه رسول الله هم اصولاً د همغو پخوانیو خبرو تصدیق او تقیید کوی. کومه نوی خبره نه وائی - یا دا چه د پخوانیو کتابونو سره موافق واقعات بیانوی». او دیر ښه تفسیر څما په نزد هم هغه دی چه «ابن کثیر رحمة الله علیه» او نورو اختیار کری دی یعنی دغه خلق له ضده او عناده وائی چه کومه معجزه او نښه دی ولی رانه وړه؟ آیا له سلهاؤ نورو معجزو او نښو څخه برسیره او له ګردو (تولو) څخه لویه معجزه او نښه دغه عظیم الشان قرآن هغوی ته نه دی رسیدلی چه د پخوانیو کتابونو د ضروریه ؤ مضامینو محافظ او د ده د صداقت دپاره د حجت او شهادت په ډول (طریقه) دی - او د هغه اعجاز له لمر څخه هم زیات ظاهر او ښکاره دی لکه چه د جزء ۲۱ العنکبوت په ۵۰-۵۱ آیت (۵) رکوع کښې داسی یو آیت لولو ﴿ وَقَالُوا لَوْلَا أُنزِلَ عَلَيْهِ آيَاتٌ مِّن رَّبِّهِ قُلْ إِنَّمَا الْآيَاتُ عِندَ اللَّهِ وَإِنَّمَا أَنَا نَذِيرٌ مُّبِينٌ أَوَلَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّا أَنزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَرَحْمَةً وَذِكْرَىٰ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴾

وَلَوْ أَنَّا أَهْلَكْنَاهُم بِعَذَابٍ مِّن قَبْلِهِ لَقَالُوا
رَبَّنَا لَوْلَا أَرْسَلْتَ إِلَيْنَا رَسُولًا فَنَتَّبِعَ آيَاتِكَ مِن قَبْلِ
أَن نَّذِلَّ وَنَخْزَىٰ ﴿١٣٤﴾ قُلْ كُلٌّ مُّتَرَبِّصٌ فَتَرَبَّصُوا
فَسَتَعْلَمُونَ مَنْ أَصْحَابُ الصِّرَاطِ السَّوِيِّ وَمَنِ اهْتَدَىٰ ﴿١٣٥﴾

او که چیری مونږ هلاک کری وی دوی په عذاب سره پخوا له دغه (قرآنه یا له محمده) نو خامخا به ویلی وی دوی ای ربه څمونږه ولی ونه لیږه تا مونږ ته یو رسول نو چه متابعت کری وی مونږ د آیاتونو ستا پخوا له هغه چه ذلیل یا شرمنده شوی وی مونږ (په دنیا یا په عقبا کښې) ووایه (ای محمده دوی ته) چه هر یو (له تاسی او له مونږه عاقبت د امر ته) انتظار کوونکی دی. پس تاسی هم انتظار کوئ پس ژر بوه به شئ تاسی چه څوک دی یاران د لیاری سمی صافی او کوم یو دی چه په سمه صافه لیاره روان دی (مونږ که تاسی).

**تفسیر:** یعنی د داسی عظیم الشان نښان له لیدلو څخه وروسته وائی چه ولی دی کومه معجزه او نښه رانه وړه؟ او فرض ئی کړئ که مونږ نه وی ورښوولی - یعنی قرآن مو نه وی نازل کری - او پخوا د کتاب له انزاله او د رسول له ارساله دوی مو د کفر او شرک په سزا کښې د دوزخ په کنده کښې غورځولی نو دوی به شور ماشور ښلاوه او داسی به ئی ویل ای صاحبه! د سزا

ورکولو شخه پخوا ښائی څمونږ دپاره کوم کتاب او پوهوونکی دی رالیږلی وی چه مونږ ئی په ذلت او رسوائی باندی له اخته کیدلو څخه لا پخوا خبر کړی وی نو تا به لیده چه مونږ ستاسی د احکامو په تعمیل کښی څومره زیار (محنت) ایسته؟ الغرض که پاک قرآن نه نازلیده نو داسی به ئی ویل اوس چه نازل شوی دی له هغه څخه سترګی اړوی او له خپله ځانه خوښی کړی معجزی او نښی په مطالبی پسی لویدلی دی ـ د دوی مقصد له سره هدایت حاصلول نه دی ـ نو ځکه داسی فضولی او چټی(بیکاره) پلمی (تدبیرونه) او بهانی جوړوی ـ نو خیر دی دوی ته ووایه چه زه او تاسی دواړه انتظار باسو چه عنقریب له غیبه څه څرګندیږی ؟ هلته به ګرد (تول) حقائق ښکاره شی چه کومه یوه ډله پر سمه لیاره روان وه؟ او کومه له لیاری څخه بی لیاری شوی وه؟

## تمت سورة طٰهٰ بتوفيقه وعونه ولله الحمد

سورة الانبياء مكية ركوعها (۷) آياتها (۱۱۲) رقم تلاوتها (۲۱) تسلسلها حسب النزول (۷۳)
نزلت بعد ابراهيم

د الانبياء سورت مكی دی. (۷) رکوع (۱۱۲) آیتونه لری په تلاوت کښی (۲۱) او په نزول کښی (۷۳) سورت دی د ابراهیم علیه السلام له سورت څخه وروسته نازل شوی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

اِقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِيْ غَفْلَةٍ مُّعْرِضُوْنَ ①

نژدی شو خلقو ته (وخت د) حساب (او جزا) د دوی حال دا چه دوی په غفلت کښی دی (له دی حساب او جزا خپلی) مخ گرځوونکی دی (له) ایمان راوړلو څخه په دغه سره)

**تفسیر:** یعنی د حساب او کتاب او مجازاتو ساعت رارسیدونکی دی، لیکن دغه مشرکین او نور خلق په سخت غفلت او جهالت کښی پراته دی او د قیامت د څواب ورکولو دپاره هیڅ یو تیاری نه نیسی او کله چه دوی ته د الله تعالیٰ آیتونه اورول کیږی او نصیحت ورته وشی چه د غفلت له خوبه راویښ او راپورته شئ نو په ډیری بی پروایئ او بی‌اعتنایئ سره اوری او هیڅ اهمیت ورته نه ورکوی او داسی یو وضعیت اختیاروی چه گواکی دوی له سره له الله تعالیٰ سره مخامخ کیدونکی نه دی او نه څه حساب او کتاب ورسره کیږی. ربښتیا ده
**(الناس فی غفلاتهم ورحی المنية تطحن:** خلق په خپلو غفلتونو کښی دی، او د مرگ ژرنده اوړه کوی).

مَا يَأْتِيْهِمْ مِّنْ ذِكْرٍ مِّنْ رَّبِّهِمْ مُّحْدَثٍ اِلَّا اسْتَمَعُوْهُ وَهُمْ يَلْعَبُوْنَ ② لَاهِيَةً قُلُوْبُهُمْ

او نه راځی دوی ته هیڅ نصیحت له (طرفه د) رب د دوی نوی (رالیږل شوی) مگر خو اوری دوی هغه (له خپل رسول څخه) حال دا چه دوی لوبی

(مسخری) پری کوی په دی حال کښی چه بوخت (مشغول) وی زړونه د دوی، (په دنیوی چارو او غافل وی له ضروری کارونو څخه)

**تفسیر:** یعنی د قرآن عظیم ډیر ارزښتناک (قیمتی) نصیحتونه دوی ته د لوبو او د ننداړو حیثیت لری او همغسی ئی اوری. که دوی په اخلاص سره پکښی فکر او غور او په تعمیل کښی ئی هڅه (کوشش) کولی نو د دوی دین او دنیا به دواړه ښه او سم شوی وی لیکن د دی له امله (وجی) چه د دوی زړونه بیخی له دی پلوه غافل او له یوه مخه په لوبو او ننداړو او تماشو کښی لګیا او بوخت (ډوب) دی نو ځکه داسی غور او فکر کولو ته له سره وخت نه لری.

وَأَسَرُّوا النَّجْوَى الَّذِينَ ظَلَمُوا هَلْ هَٰذَا إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ۖ أَفَتَأْتُونَ السِّحْرَ وَأَنتُمْ تُبْصِرُونَ ﴿٣﴾

او ښه پټوی راز (خپل) هغه کسان چه ظلم ئی کړی دی (په ځانونو خپلو په شرک سره او وائی کفار) نه دی دا (محمد) مګر خو یو انسان په شان ستاسی آیا پس راځئ تاسی هغه جادو ته (د عقیدی له مخی چه له ده سره دی) حال دا چه تاسی ګورئ (چه دا جادو دی)

**تفسیر:** کله چه دوی له ډیر نصیحت اوریدلو څخه تنګ شول نو څو بی انصافان سره راټول شول او یوه پټه جرګه ئی سره جوړه کړه او د قرآن او رسول الله په متعلق ئی په داسی خبرو خوله بیرته کړه چه دغه رسول خو زمونږ په شان یو انسان دی نه پرښته ده او نه له مونږ څخنی د کوم زیات ظاهری امتیاز خاوند دی البته دی په جادو باندی پوهیږی، دغه کلام چه دی ئی لولی او مونږ ته ئی اوروی، هرومرو (خامخا) د سحر او کوډو کلام دی نو بیا په تاسی باندی څه تکه (تندر) لویدلی ده چه په خپلو سترګو ئی ګورئ او بیا د هغه جادو په لومو (دام) کښی ځان نښلوئ لازمه ده چه هغه ته له سره مه نژدی کیږئ، ښائی چه عظیم‌الشأن قرآن ته به ئی د دی له امله (وجی) سحر ویلی وی چه په هغه کښی قوی او حیرانوونکی تاثیر دی او پټه جرګه ئی ځکه کوله چه د هغو تدبیرونو دپاره چه په مستقبل کښی ئی کول تمهید شی او ظاهره ده چه پوه او هوښیار دښمن خپلی د دښمنی چاری پخوا له وخته نه ښکاره کوی او نه ئی مشهوروی او تش په پټه او مخفی ډول (طریقه) تبلیغات جاری ساتی.

قَالَ رَبِّي يَعْلَمُ الْقَوْلَ فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ۖ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٤﴾

وویل (رسول دوی ته) رب می عالم دی په وینا (د هر هغه چا چه وی) په

آسمان کښې او په ځمکه کښې او هم دی ښه اوریدونکی (د ټولو اقوالو) ښه عالم دی (په ټولو احوالو).

**تفسیر:** رسول الله صلی الله علیه وسلم ووېل که تاسی هر څومره پټی او مخفی مشوری وکړئ پاک الله له هغو ټولو څخه عالم او خبر دی چه د آسمانونو او ځمکو په هرو پټو خبرو او احوالو هم ښه خبر او علیم دی ستاسی په دغو مخفی او پټو خبرو او جرګو به څرنګه علم ونه لری؟ او ستاسی دغه پلمې (تدبیرونه) او حیلې (مکرونه) له هغه څخه څرنګه پټی پاتی کیدی شي؟.

بَلْ قَالُوٓا۟ أَضْغَـٰثُ أَحْلَـٰمٍۭ بَلِ ٱفْتَرَىٰهُ بَلْ هُوَ شَاعِرٌ فَلْيَأْتِنَا بِـَٔايَةٍ كَمَآ أُرْسِلَ ٱلْأَوَّلُونَ ﴿٥﴾

بلکه (دغه کفار) وائي (چه دغه قرآن) ګډوډ خوبونه دی بلکه له خپل ځانه ئې جوړ کړی دی بلکه دی شاعر دی پس باید راوړی مونږ ته کومه لویه معجزه لکه هغه (معجزه) چه لیږلی شوی وو لومړنی (انبیاء په هغو سره).

**تفسیر:** د پاک قرآن په اوریدلو سره به د ډیر ضد او عناد له کبله (وحی) داسی بدحواسه کیدل چه له سره به په یوه فکر او رأیه باندی قایم نه پاتی کیدل، کله به ئې ورته جادو (کوډی) وئیل کله به ئې ګډوډ پریشانه خوب باله کله به ئې داسی ویل چه دا خبری دی له ځانه جوړوی او مونږ ته ئې وراندی کوی، او بیا پری د قرآن نوم ږدی نه یوازی هم دا به ئې ویل بلکه داسی وینا به ئې هم کوله چه محمد صلی الله علیه وسلم ډیر ښه او عمده شاعر هم دی او د شعراؤ په شان د لوړو (وچتو) تخیلاتو له لاری ډیر ښه مؤثر مضامین او مسجع عبارات جوړوی او خلقو ته ئې وراندی کوی که په واقع کښې داسی نه وی نو دی دی هم د نورو پیغمبرانو په شان کومه ښکاره لویه معجزه راوښئي. دغه ویناګانی هم محض د عناد او تش د ربړولو (تکلیف ورکولو) له امله (وحی) وی ځکه چه اول خو د مکی معظمی دغه جاهل مشرکان د پخوانیو انبیاؤ له معجزو څخه هیڅ خبر نه وو. دوهم دا چه زمونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم ډیری داسی ښکاره معجزی او نښې هم لیدلی وی چه د پخوانیو انبیاؤ له معجزو او نښو څخه په هیڅ یو صورت کمی نه وی او له ټولو څخه ډیره لویه او غټه معجزه او نښه هم دغه د عظیم‌الشأن قرآن معجزه ده، دوی په خپلو زړونو کښې ښه پوهیدل چه دا نه جادو او نه مهمل عبارات او نه چټی (بیکاره) خوب او نه شعر دی نو هر کله چه به ئې هیڅ یوی خبری له دغی معجزی سره سمون نه خوړ نو هغه به ئې پریښوده او بله خبره به ئې ورته جوړوله

﴿ اُنْظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوا لَكَ الْاَمْثَالَ فَضَلُّوا فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَبِيْلًا ﴾ د الفرقان اوله رکوع.

مَآ اٰمَنَتۡ قَبۡلَهُمۡ مِّنۡ قَرۡيَةٍ اَهۡلَكۡنٰهَا ۚ اَفَهُمۡ يُؤۡمِنُوۡنَ ۝۶

(وويل الله) نه ؤ راوړی ایمان (په معجزو) پخوا له دوی نه هیڅ (اهل د) کلی
چه هلاک کړی دی مونږ اهل د هغه (په سبب د تکذیب د دوی) آیا پس دغه
کفار به ایمان راوړی (بلکه نه ئی راوړی).

تفسیر: یعنی پخوانیو قومونو ته فرمایشی معجزی او ښیی ورښوولی شوی وی مګر دوی د هغو په لیدلو هم تابع نشول او حق ئی ونه مانه بالاخر له سنت الله سره سم هلاک کړی شو، که د مکی د دی مشرکانو دغه غوښتنی هم پوره کړی شی ښکاره ده چه دوی ئی هم منونکی نه دی.
هرومرو (خامخا) به د الله تعالیٰ د عام عادت سره موافق سپیره او فنا کړی شی، حال دا چه د هغوی بیخی تباهی او خرابی مقصود نه ده بلکه د الله تعالیٰ حکمتونه فی‌الجمله د دوی دوام (ابدیت) او بقا غواړی.

وَمَآ اَرۡسَلۡنَا قَبۡلَكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوۡحِىۡۤ اِلَيۡهِمۡ
فَسۡـَٔلُوۡۤا اَهۡلَ الذِّكۡرِ اِنۡ كُنۡتُمۡ لَا تَعۡلَمُوۡنَ ۝۷

او نه ؤ لیږلی مونږ پخوا له تا (ای محمده!) مګر خو سړی (نه پرښتی) چه
وحی به کوله مونږ دوی ته پس پوښتنه وکړئ له خاوندانو د ذکره (د
کتابیانو له علماؤ څخه) که یئ تاسی چه نه پوهیږئ

تفسیر: دا د دوی د هغه قول ځواب دی ﴿ هَلۡ هٰذَاۤ اِلَّا بَشَرٌ مِّثۡلُكُمۡ ﴾ یعنی کوم انبیاء چه پخوا راغلی وو چه د هغو د معجزو په شان له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه هم د معجزی د ښوولو غوښتنه کوئ هغوی هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم په شان انسانان وو، پرښتی نه وی که له داسی مشهوری او مستفیضی خبری څخه هم تاسی د خپل جهالت له سببه بی خبره یئ نو له هغو کسانو څخه پوښتنه وکړئ او ځان پری خبردار کړئ چه هغه تری ښه خبر دی (لکه د اهل کتابو عالمان) آخر تاسی له یهودانو او نصرانیانو سره خو خپلوی او دوستانه تعلقات لرئ نو دغه عادی خبری تاسی ولی د هم دغه اهل کتابو څخه نه پوښتئ چه آیا هغه انبیاء او رسولان چه به پخوا زمانو کښی رالیږل شوی وو انسانان وو که ملائک؟.

وَمَا جَعَلۡنٰهُمۡ جَسَدًا لَّا يَاۡكُلُوۡنَ الطَّعَامَ وَمَا كَانُوۡا خٰلِدِيۡنَ ۝۸

او نه وو گرځولی مونږ (دغه پخوانی رسولان) داسی جسدونه چه نه ئی خوړ طعام (خواړه) او نه وو دوی تل پاتی کیدونکی (په دنیا کښی بلکه طعام به ئی خوړ او مړه کیدل به هم)

**تفسیر:** یعنی انسانی خصائص په هغو کښی موجود وو او د هغوی بدن د پرښتو په شان نه ؤ چه هیڅ کله خواړه ونشی خوړلی او نه هغوی د الوهیت مرتبه لرله چه له سره مرګ او فناء پری رانشی او تل تر تله ژوندی پاتی شی.

ثُمَّ صَدَقْنٰهُمُ الْوَعْدَ فَاَنْجَیْنٰهُمْ وَمَنْ نَّشَآءُ وَاَهْلَكْنَا الْمُسْرِفِیْنَ ﴿۹﴾

بیا رښتیا کړه مونږ هغوی سره وعده (د نجات د دوی) پس نجات ورکړ مونږ هغوی ته او هغو ته چه زمونږ اراده وه (د نجات د دوی چه مصدقین دی) او هلاک کړل مونږ مسرفان (له حده تیریدونکی د رسولانو مکذبین).

**تفسیر:** یعنی د هغوی امتیاز له نورو بندګانو څخه دا ؤ چه د الله تعالیٰ له لوری د مخلوق د هدایت او اصلاح دپاره تاکل (مقرر) شوی وو، الله تعالیٰ په دوی وحی نازلوله او سره له بی سرو سامانی به ئی د مخالفینو په مقابل کښی دوی سره د نصرت او حمایت وعدی کولی لکه چه پاک الله خپلی دغه وعدی تولی رښتیا او ښکاره کړی او دغه انبیاء ئی د خپلو ملګرو سره محفوظ وساتل او هغه لوی لوی متکبر دښمنان چه هغوی سره به ئی مخالفت او دغری وهلی تباه او غارت کړل شول، بیشکه چه محمد صلی الله علیه وسلم هم بشر دی. لیکن د بشر له هغو انواعو څخه دی چه د هغو مرسته (مدد) او حمایت د تولی دنیا په مقابل کښی کاوه شی، د دوی مخالفینو ته لازم دی چه د خپل انجام فکر او اندیښنه وکړی او د پخوانیو قامونو له مثالونو څخه دی پند او عبرت واخلی، داسی ونه شی چه د آخرت له حساب نه پخوا په هم دغه دنیا کښی دوی سره حساب او کتاب شروع شی.

لَقَدْ اَنْزَلْنَآ اِلَیْكُمْ كِتٰبًا فِیْهِ ذِكْرُكُمْ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۰﴾

خامخا په تحقیق نازل کړی دی مونږ تاسی ته یو کتاب چه په هغه کښی ذکر (پند) ستاسی دی، آیا پس تاسی عقل نه لرئ (چه ایمان پری راوړئ.)

**تفسیر:** یعنی د پاک قرآن په وسیله تاسی ته هر قسم پند او نصیحت درکړی شوی دی او د تولو

ښو او بدو پای (آخر) او انجام درښودل شوی دی که لږ عقل او سد (هوش) هم ولرئ نو زيار (محنت) او کوښښ به کوئ چه د الله تعالیٰ له عذابه ځان وساتئ او د پاک قرآن قدر او عظمت به ښه شان سره وپيژنئ چه په حقيقت کښې ستاسی د لوئی او شرف دپاره يو لوی سند او قاطع برهان دی ځکه چه ستاسی د قوم په ژبه او ستاسی د قوم په يوه کامل فرد باندی نازل شوی دی او به دنيا کښې ئی تاسی ته دائمی وياړ (فخر) او شهرت دربښلی دی که تاسی د خپل دغسی محسن قدر نه پيژنئ او خبرو ته ئی غوږ نه کيږدئ نو په دنيا کښې به خوار او ذليل شئ! او د آخرت عذاب به بيل تاسی ته تيار شي. له دی نه وروسته د هغو قومونو دنيوی پای (آخر) او انجام بيانوی چه هغوی له انبياؤ سره دښمنی او په خپلو ځانونو ئی ظلم او تيری کړی ؤ.

وَكَمْ قَصَمْنَا مِن قَرْيَةٍ كَانَتْ ظَالِمَةً وَأَنشَأْنَا بَعْدَهَا قَوْمًا آخَرِينَ ﴿١١﴾

او ډير توتی توتی کړی دی مونږ (په هلاک کولو سره) له اهل د کليو چه وو هغوی ظالمان او پيدا کړل مونږ وروسته له هغو څخه قومونه نور (د دوی په ځای)

**تفسير:** يعنی داسی نه ده چه د هغو له ورکيدلو څخه به د الله تعالیٰ ځمکه خرابه او ويجاړه (ورانه) شي، دوی چه ورک شي د دوی په ځای نور خلق پيدا او ودانوی.

فَلَمَّا أَحَسُّوا بَأْسَنَا إِذَا هُم مِّنْهَا يَرْكُضُونَ ﴿١٢﴾ لَا تَرْكُضُوا
وَارْجِعُوا إِلَىٰ مَا أُتْرِفْتُمْ فِيهِ وَمَسَاكِنِكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْأَلُونَ ﴿١٣﴾

پس هر کله چه حس به کړ (وبه موند) دوی عذاب زمونږ ناڅاپه دوی به له دغه عذابه تښتيدل (په ډيره بيړه (تلوار) نو پرښتو به په تمسخر سره ورته ويل) مه تښتئ او بيرته لاړ شئ هغه ځای ته چه ښه ژوند درکړی شوی ؤ تاسی ته په هغه کښې او کورونو خپلو ته ښائی چه له تاسی نه پوښتنه وکړه شي.

**تفسير:** يعنی کله چه کافران او مشرکان د الله تعالیٰ له عذاب سره مخامخ شول نو وئی غوښتل

چه له هغه ځایه وتښتی او په تیښته سره ځان ته نجات حاصل کړی په دغه وخت کښی په تکوینی ډول (طریقه) سره دوی ته وویل شول چه چیری تښتیږئ؟ ودریږئ او په همغه لوری بیرته لاړ شئ چه هلته مو عیش او عشرت کاوه او ډیر زیات د تنعم اسباب مو راجمع کړی وو ښائی چه هلته څوک له تاسی څخه پوښتنه وکړی. صاحبه! هغه د مال او دولت او د زور او قوت نشه مو او هغه ساز او سامان مو څه شول؟ او هغه نعمتونه چه پاک الله تعالیٰ تاسی ته درکړی وو د هغو شکر مو تر کوم ځای پوری ادا کړی ؤ؟ یا دا چه تاسی خو داسی لوی سړی وئ چه په هر ځای کښی به ستاسی عزت او احترام کیده اوس هم هلته لاړ شئ هیڅ د تیښتی ضرورت نشته څو خلق په خپلو مهماتو کښی له تاسی سره خبری اتری او مشوری وکړی شی دغه ټولی خبری د تحکم په توګه (طریقه) ویل شوی دی.

---

قَالُوْا يٰوَيْلَنَآ اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿۱۴﴾ فَمَا زَالَتْ تِّلْكَ دَعْوٰىهُمْ حَتّٰى
جَعَلْنٰهُمْ حَصِيْدًا خٰمِدِيْنَ ﴿۱۵﴾

---

وبه وائی ای هلاکته زمونږ (راحاضر شه دغه دی وخت دی) بیشکه مونږ وو ظالمان. پس تل به وی دغه بلنه د دوی (هلاک لره) تر هغو پوری چه وبه ګرځول مونږ دوی ریبل شوی، مړه یخ پراته.

---

**تفسیر:** یعنی کله چه عذاب ئی په خپلو سترګو ولید نو هلته ئی په خپلو جرمونو اعتراف وکړ او درګرده (په شریکه) به ئی داسی چغی وهلی چه بیشکه مونږ ظالمان او مجرمان یو! لیکن اوس د دوی دغه افسوس او حسرت څه په کار ورځی؟
دا د توبی د قبول وخت نه ؤ د دی وخت اعتراف او ندامت ګرد (ټول) سره بیکاره وو او بالاخر په دی ډول (طریقه) سره ختم کړی شو لکه چه شین کښت (فصل) یو دم وریبلی شی او درمند شی یا په اور کښی د سوځیدلو لرګیو د ایری د ډیری په شان پاتی کیږی (العیاذ بالله تعالیٰ)

---

وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لٰعِبِيْنَ ﴿۱۶﴾

---

او نه دی پیدا کړی مونږ آسمان او نه ځمکه او نه هر هغه چه په منځ د دوی کښی دی په داسی حال کښی چه لوبی کوونکی وو مونږ (او هیڅ یوه ګټه (فائده) د دوی په پیدائښت باندی مرتبه نه وی)

**تفسیر:** یعنی چه پکښې کوم معتدبه حکمت او صحیح غرض نه وی نو ځکه عقلمن ته ښائی چه د عالم د خلقت په غرض او غایه وپوهیږی او دنیا تش د لوبی او تماشا ځای ونه ګڼی او له انجام څخه غافل نشی بلکه ښه وپوهیږی چه دنیا د آخرت دپاره پیدا کړی شوی ده او د هر نیک او بد عمل جزا او سزا رسیدل او د ذری ذری حساب کیدل یو حقه او ضروری خبره ده.

لَوْ أَرَدْنَآ أَن نَّتَّخِذَ لَهْوًا لَّاتَّخَذْنَٰهُ مِن لَّدُنَّآ إِن كُنَّا فَٰعِلِينَ ⑰ بَلْ نَقْذِفُ بِٱلْحَقِّ عَلَى ٱلْبَٰطِلِ فَيَدْمَغُهُۥ فَإِذَا هُوَ زَاهِقٌ وَلَكُمُ ٱلْوَيْلُ مِمَّا تَصِفُونَ ⑱

او که اراده کړی وی مونږ چه ونیسو مونږ لهو (اسباب د شغل لکه ښځه او ولد) نو خامخا نیولی به وه مونږ هغه لهو له طرفه خپله که وی مونږ کوونکی د دی کار. بلکه ویشتل کوو مونږ په حق سره په باطل باندی بیا (دغه حق) سر ماتوی د هغه (باطل) او محو کوی ئی پس ناڅاپه دا باطل هلاک (او ورک) کیږی، او تاسی ته اور، افسوس عذاب، خرابی ده (ای کفارو له هغه څه څخه چه ثابتوئ تاسی (په هغه سره الله ته ښځه، ولد).

**تفسیر:** یعنی که بالفرض داسی لهو او لعب کار زمونږ له شانه سره لایق هم وی او مونږ داسی اراده هم کړی وی چه هم داسی کومی مشغلی او لوبی او تماشی جوړی کړو نو دغه کار به مونږ بالذات په خپله او په خپل قدرت کړی وی او ستاسی مجازات او مکافات کولو او نیولو او خوشی کولو ته به له سره هیڅ یو ضرورت نه ؤ پاتی. لیکن حقیقت دا دی چه دنیا محض لوبی او تماشا نه ده بلکه د سعی او عمل او مبارزی میدان دی، دلته د حق او باطل مقابله کیږی، حق یرغل (حمله) کوی او د باطل سر ماتوی له دی څخه تاسی د خپل شرک او ناپوهی په پای (آخر) او انجام وپوهیږئ کله چه د حق او صداقت ګولی او مردکی په پوره قوت په تاسی ولویږی هلته به ځرنګه خرابی او بربادی ستاسی په برخه شی او بل کوم یو طاقت به تاسی ته نجات درکړی شی؟.

**تنبیه:** د ﴿ لَوْ أَرَدْنَآ أَن نَّتَّخِذَ لَهْوًا ﴾ الآیة ـ تقریر په څو څو دوله (قسمه) کړی شوی دی زمونږ په نزد هغه معنی چه د سیاق او لحاق په اعتبار دیره قریبه او صافه وه هماغه مو اختیار کړه او د «من لدنا» او د «ان کنا فاعلین» د قیودو فوایدو ته هم لطیفه اشاره کړی شوی ده. والله تعالیٰ اعلم.

وَلَهٗ مَنۡ فِی السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ

او خاص ده لره دی هر هغه څوک چه په آسمانونو کښې دی او په ځمکه کښې دی (د پیدائښت، ملکیت او بندګۍ له مخې)،

**تفسیر:** بیا که دی د تباه کولو اراده وکړی نو څوک به نجات ورکړی شي؟ او چیری به د پټیدلو او پناه ځای موندلی شي.

وَمَنۡ عِنۡدَهٗ لَا یَسۡتَکۡبِرُوۡنَ عَنۡ عِبَادَتِهٖ وَلَا یَسۡتَحۡسِرُوۡنَ ۚ﴿۱۹﴾
یُسَبِّحُوۡنَ الَّیۡلَ وَالنَّهَارَ لَا یَفۡتُرُوۡنَ ﴿۲۰﴾

او هغه (پرښتې) چه ده څخه دی نه کوی کبر (سرکشي) دوی له عبادت د ده (الله) او نه ستومانه کیږی (له عبادته ئې یوه شیبه (لحظه) هم) تسبیح وائی (هم) په شپه او (هم) په ورځ کښې نه سست (او ضعیف) کیږی.

**تفسیر:** یعنی پرښتې سره له دی چه د الله تعالیٰ د دربار له مقربانو څخه دی لږ څه تکبر، غرور او لوئی نه کوی او د خپل الله تعالیٰ بندګی او غلامی د خپل ځان دپاره عزت او فخر ګڼی او د عبودیت د وظایفو په ادا کښې لګیا اوسیږی او له سره پکښې نه ستړی کیږی او نه تری په تنګ کیږی بلکه هم دغه ذکر او تسبیح د دوی روحانی غذا ده څرنګه چه مونږ تل خپله ساه او نفس ښکته او پورته کوو او ورسره په نورو کارونو کښې هم مشغولیږو د پرښتو د تسبیح او ذکر کیفیت هم دغسی وګڼئ! پرښته پر هر کار چه ماموره شي او په هر یوه خدمت کښې چه بوخته او لګیا وی یوه شیبه (لحظه) هم د الله تعالیٰ له ذکره نه غافلیږی کله چه د معصومو او مقربو پرښتو حال دا دی نو خطاکار انسان ته لازم دی چه په خورا (ډیر) زیاتو مراتبو سره د پاک الله په ذکر او عبادت مشغول او مصروف واوسی.

اَمِ اتَّخَذُوۡۤا اٰلِهَةً مِّنَ الۡاَرۡضِ هُمۡ یُنۡشِرُوۡنَ ﴿۲۱﴾

آیا نیولی دی دوی نور معبودان له ځمکی څخه (یا په ځمکه کښې) چه دوی به هم ژوندی کوی مړی (بلکه نشي ژوندی کولی).

**تفسیر:** یعنی آسمانی پرښتې خو له سره د الله تعالیٰ له بندګی څخه نه زړه تنګی او نه ستومانه

کیږی بلکه تل د ده په یاد او بندګی کښی مشغولی وی بیا آیا په ځمکه کښی څه داسی موجودات شته چه هغوی د الله تعالیٰ په مقابل کښی معبود ګرځولی شی؟ او کله چه پاک الله د دوی عابدان په خپل عذاب کښی هلاک کړی آیا دوی ئی بیرته ژوندی کولی شی؟ یا له هلاکت څخه ورته نجات ورکولی شی؟ له سره ئی نشی کولی.

لَوْ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَا

که چیری وی په دغه آسمان او ځمکه کښی نور معبودان (حاکمان) بی له الله څخه نو خامخا وران شوی به وو دواړه (عادتاً د دوی د اختلاف په سبب)

**تفسیر:** دغه آلهه او د تعدد پر ابطال نهایت پوخ او واضح دلیل دی چه عظیم‌الشان قرآن هغه په خپل مخصوص اسلوب سره وړاندی کړی دی. ښه پام وکړئ چه عبادت د کامل تذلل نوم دی او کامل تذلل صرف د هم هغه کامل لوی ذات په مخکښی اختیاراو شی چه پخپل ذات او صفاتو کښی له هر حیثه او هر جهته کامل وی چه هم دغه ته مونږ (الله) یا خدای جل جلاله وایو. ضروری ده چه د الله تعالیٰ ذات له هر قسم نقائصو او عیوبو څخه پاک وی او له هیڅ حیثه ناقص، بیکاره، عاجز مغلوب نه وی او نه د بل چا په مقابل کښی ناتوان وی، او نه بل د ده په کارونو کښی څه ګوتی وهلی شی او نه څه څنډ (ایسارتیا) کیدلی شی نو اوس که تاسی فرض کړئ چه که په آسمان او ځمکه کښی دوه خدایان وی نو که دغه دواړه په یو شان سره وی په دغه وخت کښی به تاسی ووینئ چه د عالم تخلیق او د علویاتو او سفلیاتو تدبیرونه د دواړو په کلی اتفاق سره کیږی او یا کله کله پکښی اختلاف هم پیښیږی؟ د اتفاق په صورت کښی دوه احتماله متصور دی. یا خو یوازی یوه د کائناتو د انتظام او تدبیر کار نشو چلولی نو دواړو په ګډه دغه کار ته اقدام وکړ نو معلومه شوه چه د دغو دواړو څخه یو هم د کامل قدرت خاوند نه دی او که یوازی یوه د ګرد (ټول) عالم د کارونو انجام او انتظام کولی شوی نو دغه بل بیکاره پاتی کیده حال دا چه د الله تعالیٰ د وحدانیت په منلو مونږ له دی کبله (وجی) مکلف یو چه بی د هغه له منلو څخه بل هیڅ چاره نشته او که د اختلاف صورت فرض کړو نو یو هرومرو (خامخا) به د بل په مقابل کښی یا مغلوب شی او له خپلی ارادی او تجویز څخه به لاس واخلی نو دغه خدای نشو او یا به دواړه بالکل په مساوی او متوازی طاقت سره یو د بل په خلاف خپله اراده او تجویز تعمیل او اجرا کړی، اول خو (معاذ الله) د خدایانو په دغه رسی کشولو کښی له سره هیڅ شی موجود نشی او دوهم دا چه که په موجوده شیانو کښی دغسی زور آزموینه وشی نو په دغه زور آزموینه کښی به ګرد (ټول) موجوده شیان سره ګډوډ او له منځه لاړ شی. له دی نه دغه نتیجه راووته چه که په آسمان او ځمکی کښی دوه خدایان وی نو د اسمان او ځمکی دغه موجوده نظام به لا له پخوا څخه ګډوډ او وران شوی وی که نه نو دا خبری لازمیده چه یو خدای

بیکاره یا ناقص یا عاجز پاتی شوی وی او دغه کار د مفروض شخه مخالف دی.

فَسُبۡحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ الۡعَرۡشِ عَمَّا يَصِفُوۡنَ ﴿۲۲﴾

نو پاک دی الله چه رب د عرش دی له هغو (ناکارو خبرو او شیانو (چه دوی ئی منسوبوی ورته

**تفسیر:** چه د لوی عرش یوازی مالک او څیښتن (خاوند) خدای تعالیٰ دی، د ده په ملک او باچائی کښې له سره ګدون ځای نه لری، دی خپلواک باچا دی کله چه دوه واکدار باچایان په یوه اقلیم کښې نشی ځائیدلی چه د هغو واکداری هم یوازی مجازی ده نو دوه کل مختاره او مطلق قادر خدایان به څرنګه په یوه سلطنت کښې شریک کیدی شی.

لَا يُسۡـَٔلُ عَمَّا يَفۡعَلُ وَهُمۡ يُسۡـَٔلُوۡنَ ﴿۲۳﴾

نه پوښتیدلی کیږی (الله) له هغو (شیانو) چه کوی ئی (ځکه چه الوهیت یوازی د ده صفت دی. او دوی پوښتیدلی کیږی (د دوی له افعالو، احوالو او اقوالو ځکه چه دوی مخلوق او مملوک دی)

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ د هغه لوی ذات نوم دی چه مطلق قادر او کل مختار دی (او ټول کارونه ئی صواب او له حکمته ډک دی) د ده قدرت او مشیت مخه نیول لا څه چه تشه پوښتنه تری هم څوک نشی کولی چه مثلاً هغه فلانی کار دی ولی داسی وکړ؟ مګر پاک الله حق لری او ده لره ښائی چه هر هغه څوک چه اراده ئی وشی مواخذه ئی کړی او تری لازمی پوښتنی وکړی.

اَمِ اتَّخَذُوۡا مِنۡ دُوۡنِهٖۤ اٰلِهَةً ؕ قُلۡ هَاتُوۡا بُرۡهَانَكُمۡ ۚ

آیا نیولی دی (دغو مشرکانو) بی له دغه الله (یا راښکته له الله) څخه نور معبودان، ووایه (ای محمده! دوی ته) چه راوړئ سند خپل (د شرک په دغه دعوی کښې)،

**تفسیر:** له دی نه پخوا پر توحید عقلی دلیل قایم کړی شو اوس له مشرکانو څخه د دوی د شرک د دعوی په خصوص د صحیح دلیل غوښتنه کیږی یعنی بی له الله تعالیٰ څخه د هغو معبودانو تجویز چه تاسی کړی دی د دوی د اثبات دپاره که کوم عقلی یا نقلی دلیل لرئ هغه

راوړاندی کړئ! ښکاره ده چه له هغوی سره پرته (علاوه) له اوهامو او گمانونو او د پلرونو او نیکونو له غلطو او ړندو تقلیدونو څخه بل هیڅ شی نه ؤ، د شرکت په دعوی کښی ئی نه کوم عقلی او نه کوم نقلی دلیل وړاندی کړی شو. کذا قال المفسرون. حضرت شاه صاحب لیکلی دی «پخوا ئی د هغو معبودانو په حق کښی ویلی وو چه که تاسی هغوی له الله تعالیٰ سره برابر گڼئ (نو که دغه ادعا مو سمه وی) د داسی دوو حاکمانو له وجود څخه دنیا خرابیږی، اوس د هغو یادونه کوی چه له پاک الله څخه ښکته وړوکی، وړوکی نائبان د ماتحتو حکامو په شان مقرروئ نو آیا دغه ماذونان د خپلو لویو آمرانو له خوا کوم برهان، سند او فرمان لری، ځکه چه بی له سند او فرمان څخه هیڅوک نیابت نشی کولی، که کوم سند وی راوړاندی ئی کړئ.

هٰذَا ذِكْرُ مَنْ مَّعِيَ وَذِكْرُ مَنْ قَبْلِيْ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۙ الْحَقَّ فَهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿۲۴﴾

دغه (قرآن) دی بیان د هغو چا چه له ما سره دی (له محمدی امت څخه) او بیان د هغه چا دی چه پخوا له ما تیر شوی دی، بلکه زیاتره د دوی نه پوهیږی په حقه خبره (چه توحید او قرآن دی) پس دوی مخ گرځوونکی دی (له توحید یا ستا له رسالت څخه)

**تفسیر:** یعنی زما د امت او د پخوانیو موحدینو تولو هم دا یوه خبره ده چه له الله تعالیٰ څخه پرته (علاوه) چه (رب العرش) دی بل الله نشته چه د هغه عقلی دلیل پخوا له دی نه بیان شو که تاسی د دغی عقیدی له منلو څخه مخ اړوئ او له دغی آسمانی او اجتماعی عقیدی څخه پرته (علاوه) کوم بل دلیل لرئ نو هغه راوړاندی کړئ، زما دعویٰ دا ده چه دغه محمدی امت او نور پخوانی امتونه د دی کتاب قرآن کریم او د پخوانیو امتونو آسمانی کتابونه (تورات، انجیل، او نور) سره تول د توحید په دی دعوی کښی سره متفق دی، لکه چه نن هم له هغو زیاتو تحریفاتو سره که پخوانی آسمانی کتابونه ولتوئ! نو په هغو کښی د توحید اعلان او د شرک تردید په صاف او ښکاره ډول (طریقه) سره مومئ. مگر دغه جاهلان په دغو خبرو څه پوهیږی که پوهیدلی نو د حقی خبری د اوریدلو په مقابل کښی به ئی دغسی د انکار او اعراض وضعیت نه غوره کاوه.

وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا نُوْحِيْٓ اِلَيْهِ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدُوْنِ ﴿۲۵﴾

او نه ؤ لیږلی مونږ پخوا له تا څخه هیڅ رسول مګر چه وحی به کوله مونږ هغه ته (داسی) چه بیشکه شان دا دی چه نشته برحق معبود مګر زه یم (یوازی) نو بندګی کوئ تاسی زما.

**تفسیر:** یعنی تولو انبیاؤ او مرسلانو علیهم السلام د توحید په دی عقیده اجماع کړی ده، هیڅ یوه نبی علیه السلام په هیڅ یو وخت کښی یو حرف هم د توحید په خلاف نه دی ویلی او دوی تل هم داسی تلقین کاوه چه د یوه خدای تعالیٰ له عبادت نه پرته (علاوه) د بل هیچا عبادت مه کوئ! ځکه چه هیڅوک بی د الله تعالیٰ څخه د عبادت مستحق نه دی نو په هم هغه شان چه له عقلی او فطری دلائلو څخه د توحید ثبوت او تحصیل او د شرک تردید کیږی هم داسی په نقلی حیثیت هم د انبیاؤ علیهم السلام اجماع د توحید د دعوی په حقانیت باندی قطعی دلیل دی.

وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ وَلَدًا سُبْحٰنَهٗ ؕ

او وائی دغه (منکران) نیولی دی رحمٰن ولد پاک دی دغه (الله له ولد څخه)

**تفسیر:** د عربو ځینو قبیلو ملائکو ته د الله تعالیٰ لونی ویلی نو ئی وښودل چه د الله تعالیٰ له لوړ (وچت) شان سره لایق نه دی چه لونی یا زامن ولری نو په دی آیت سره د نصرانیانو د دی عقیدی تردید هم وشو چه حضرت مسیح علیه السلام ته ابن الله وائی او د یهودانو د هغی فرقی تردید هم وشو چه حضرت عزیر علیه السلام ته د الله زوی وائی.

بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُوْنَ ﴿۲۶﴾ لَا يَسْبِقُوْنَهٗ بِالْقَوْلِ وَهُمْ بِاَمْرِهٖ يَعْمَلُوْنَ ﴿۲۷﴾

بلکه (دوی) بندګان (د الله) دی مکرم مقرب معزز (د الله په دربار کښی په عزت سره) چه نشی وړمبی کیدی دوی له دغه (الله) څخه په خبره سره او دوی خاص په حکم د الله عمل کوی.

**تفسیر:** یعنی هغو مکرمو محترمو ذواتو ته چه تاسی د الله تعالیٰ اولاد وایئ، هغه ئی له سره اولاد نه دی بلکه د هغه معزز بندګان دی او د دوی له انتهائی اعزاز او تقرب سره سره د دوی د ادب او اطاعت حال دا دی چه د الله تعالیٰ له رضاء او خوښی نه پرته (علاوه) د هغه په حضور کښی له سره خوله نشی بیرته کولی او نه بی د الله تعالیٰ له حکم او اجازی څخه کوم کار کولی شی ګواکی د عبودیت او بندګی کمال د دوی د امتیاز طغرا (نښه) او څرګنده (ښکاره) نښه ده.

يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ

معلوم دی الله ته هغه څه چه د وړاندی د دوی دی او هغه څه چه وروسته د دوی دی

**تفسير:** د الله تعالیٰ علم د دوی په ټولو ظاهری او باطنی احوالو محيط دی، د دوی هيڅ يو حرکت او هيڅ قول او هيڅ يو فعل له ده څخه پټ نه دی لکه هغه مقرب بندګان چه په دی حقيقت پوهيدلی دی تل خپلو احوالو ته ګوری او څارنه (حفاظت) ئی کوی چه په هيڅ يو حالت کښی د الله تعالیٰ د رضا څخه مخالف څه ونه کړی!.

وَلَا يَشۡفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ٱرۡتَضَىٰ

او نه کوی شفاعت دوی (نشی کولی د هيچا) مګر دپاره د هغه چا چه راضی وی (تری الله)

**تفسير:** يعنی دوی بی د الله تعالیٰ د رضا معلومولو څخه د هيچا شفاعت نه کوی، کله چی له موحدو مومنانو څخه پاک الله تعالیٰ خوښ او راضی وی نو ځکه د دوی په حق کښی په دنيا او عقبیٰ کښی استغفار د خدای د پرښتو وظيفه ده

وَهُم مِّنۡ خَشۡيَتِهِۦ مُشۡفِقُونَ ۝٢٨

او دوی له هيبت د الله څخه ويريدونکی دی

**تفسير:** بيا نو دوی ته څرنګه خدای ويلی شی؟ کله چه هغوی خدايان نه دی نو د الله تعالیٰ زامن او لونی هم له سره کيدی نشی ځکه چه صحيح اولاد د والدينو له جنس څخه وی.

وَمَن يَقُلۡ مِنۡهُمۡ إِنِّيٓ إِلَٰهٌ مِّن دُونِهِۦ فَذَٰلِكَ نَجۡزِيهِ جَهَنَّمَۚ
كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلظَّٰلِمِينَ ۝٢٩

او هر څوک چه ووائی له دغو (ملائکو څخه چه) بیشکه زه معبود یم بی له الله څخه پس دغه (ویونکی چه دی) جزا به ورکوو مونږ ده ته دوزخ، هم داسی (لکه چه دغو د الوهیت مدعیانو ته سزا ورکوو) جزا ورکوو ظالمانو ته (چه د غیر الله عبادت کوی).

**تفسیر:** یعنی هغه چه تاسی ئی د الله تعالیٰ اولاد یا خدایان بولئ که هغوی (معاذ الله) په خپله په فرض محال د داسی خبری ادعاء وکړی نو هغوی به هم په هغه دوزخ کښی وغورځول شی چه د نورو له حده تیریدونکو ظالمانو د سزا دپاره مخصوص او معین دی، زمونږ له لامحدود اقتدار او جبروت څخه هغوی هم بل چیری نشی تلی نو بیا څنګه الله کیدی شی؟

أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوٓا أَنَّ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنٰهُمَا ط

آیا نه دی لیدلی (نه دی خبر) هغه کسان چه کافران شوی دی چه بیشکه آسمانونه او ځمکی وو دواړه سره نښتی (ضم پیوسته په اول کښی) پس بیل کړل مونږ دوی دواړه،

**تفسیر:** د (رتق) اصلی معنی پیوست، نښتل او یو په بل کښی سره ننوتل دی، په ابتدا کښی ځمکه او آسمان دواړه د عدم په تیارو او ظلمت کښی یو له بله غیر متمیز پراته وو بیا د وجود په ابتدائی مراحلو کښی هم دواړه سر ګدود، خلط ملط وو بیا د قدرت لاس دوی دواړه سره جلا (جدا) کړل. له دغه بیلوالی او جداوالی څخه وروسته د دوی دواړو طبقات سره بیل بیل او جلا (جدا) شول سره له دی بیا هم هر یو بند ؤ نه له آسمان څخه باران وریده او نه له ځمکی څخه څه شی زرغونیده بالاخره الله تعالیٰ د انسانی نوعی د ګټو او ښیګڼو (فائدو) دپاره د دغو دواړو خولی پرانستلی له پاسه د وریځو د اوبو ورخونه پرانستل شول او له لاندی د ځمکی مسامونه (سوری) خلاص شول چه د هغو په اثر په ځمکه کښی سیندونه، ویالی، لښتی، چینی وبهیدلی او راز راز (قسم قسم) شینکی، کښتونه (فصلونه) بوټی، ونی، میوی دانی، او څرځایونه، معدنونه او نور راووتل او آسمان ئی په بی شمارو ستورو سره ښایسته کړ چه د دوی د هر یوه دپاره ئی جلا (جدا) ځای او د تګ لاره او مدار مقرر کړو.

وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَآءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ ط

او پیدا کړی دی مونږ له اوبو څخه هر شی ژوندی،

**تفسیر:** یعنی عموماً ژوندی موجودات چه ستاسی په نظر درځی بالواسطه یا بلا واسطه د اوبو څخه جوړ شوی دی او خاصتاً اوبه د دوی د ژوندانه سبب او ماده ده مګر هغه مخلوق له دی نه مستثنیٰ دی چه د هغو په نسبت دا ثابته شی چه د هغو په تخلیق کښی اوبه له سره دخل نه لری خو بیا هم دا کلیه د (للاکثر حکم الکل) په اعتبار صادقه ده.

أَفَلَا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٠﴾

نو آیا ایمان نه راوړی دوی.

**تفسیر:** یعنی د قدرت د داسی ښکاره او ټینګو انتظاماتو له لیدلو سره هم آیا خلق د الله تعالیٰ په وجود او د ده په وحدانیت هم یقین او باور نه کوی؟

وَجَعَلْنَا فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ أَن تَمِيدَ بِهِمْ

او پیدا کړی دی مونږ په ځمکه باندی درانه محکم غرونه ولاړ (یا ټک وهلی دی مونږ پکښی میخونه) چه ونه خوځیږی دا ځمکه په دوی.

**تفسیر:** د دی آیت تفسیر د (النحل) په سورت کښی تیر شوی دی هلته دی وکتل شی!

وَجَعَلْنَا فِيهَا فِجَاجًا سُبُلًا لَّعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ ﴿٣١﴾

او ګرځولی دی مونږ په دغه (ځمکه او غرونو) کښی ارتی لاری دپاره د دی چه دوی لاره ومومی (او بی له تکلیف څخه خپل مقصود ته ورسیږی)

**تفسیر:** یعنی د یوه ملک خلق د بل ملک له خلقو سره یو ځای کیدی شی ټک او راتګ وکړی شی، که غرونه ډیر هسک (اوچت) او ستغ (کلک) لکه دیوالونه دریدلی وی او په خپلو سرونو او شاوخوا کښی ئی خلقو ته لار نه وی ورکړی نو دغه اوسنی راشه درشه به څرنګه کیده؟ (کذا فی موضح القرآن) د هم دغو خلاصو لارو له لیدلو څخه انسان د الله تعالیٰ د قدرت او حکمت او توحید په طرف لاره موندلی شی.

وَجَعَلْنَا السَّمَآءَ سَقْفًا مَّحْفُوظًا ۚ

او گرځولی دی مونږ آسمان چت ساتل شوی (له پریوتلو)

**تفسیر:** چه نه لویږی نه پکښی کوم سوری یا چاود لیدل کیږی نه بدلیږی او د شیاطینو له استراق‌السمع څخه محفوظ دی او سقف ئی ځکه وویل چه په ښکاره ډول (طریقه) په سترگو د چت په شان معلومیږی.

وَهُمْ عَنْ اٰيٰتِهَا مُعْرِضُوْنَ ﴿۳۲﴾

او دغه کفار له علائمو د آسمانونو څخه مخ گرځوونکی دی

**تفسیر:** چه څرنگه مضبوط، محکم، وسیع او هسک (اوچت) چت دومره موده بی ستنو او پایو ولاړ دی او په رنگ او روغن او ښکلا کښی ئی بیخی تغیر نه دی راغلی او پکښی لمر، سپوږمۍ او ستوری او نور داسی ډیر عجائب او غرائب لیدل کیږی چه هر یو ئی بیل بیل د رب العزت په وجود او وحدانیت باندی دلالت کوی،

وَهُوَ الَّذِيْ خَلَقَ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۭ

او دغه (الله) هغه (مطلق قادر دی چه پخپل بالغه حکمت) ئی پیدا کړی ده شپه (د ارامتیا دپاره) او ورځ (د کار دپاره) او لمر (رڼرا دپاره) او سپوږمی (روښانتیا دپاره)،

**تفسیر:** دا د هم هغو آسمانی علائمو او نښو لږ څه توضیح ده.

كُلٌّ فِيْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ ﴿۳۳﴾

دغه هر یو له دغو ( لمر، قمر او ستورو څخه) په فلک کښی حرکت کوی او گرځی (لکه لامبوزن په اوبو کښی په لامبو وهلو سره)

**تفسیر:** یعنی لمر، سپوږمی بلکه ټول ستوری په خپل مدار باندی برابر گرځی او چورلی د (یسبحون) له لفظ څخه ظاهر دا معلومیږی چه دا سیاری د الله تعالیٰ په حکم بالذات په خپله

ګرځی. (والله تعالیٰ اعلم).

وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّن قَبْلِكَ الْخُلْدَ ۖ أَفَإِن مِّتَّ فَهُمُ الْخَالِدُونَ ﴿٣٤﴾
كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ ۗ

او نه دی ګرځولی مونږ هیڅ یوه انسان ته پخوا له تانه (ای محمده) تل ژوندی پاتی کیدل (په دنیا کښی) آیا پس که ته مړ شی پس دوی به تل پاتی کیدونکی وی (په دنیا کښی بلکه داسی نه ده) هر یو نفس څکونکی د مرګ دی (یعنی مری)،

**تفسیر:** یعنی هم هغسی چه د پورتنیو ذکر شوو مخلوقاتو وجود د الله تعالیٰ په امر ایجاد شوی دی د تولو انسانانو ژوندون هم د هغه له ورکړی شخه دی هر وخت چه وغواړی دغه خپله ورکړه له دوی نه بیرته اخلی. مرینه هر چا ته دا خبره ثابتوی چه د ده هستی او وجود د ده په لاس او واک (اختیار) کښی نه دی او د ده ژوند د شو ورځو د پسرلی رونق او ننداره ده چه پای (آخر) ته رسیږی او ختمیږی.

حضرت شاه صاحب لیکی چه کفارو به د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خبرو د اوریدلو په مقابل کښی ویل دا تول شورماشور محض د دغه سړی تر ژوند پوری دی کله چه دی له دنیا شخه رخصت شو بیا به هیڅ نه وی له دی نه، که د دوی دا غرض ؤ چه موت له نبوت سره منافی دی نو د هغه ځواب ئی په دی سره ورکړ ﴿ وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّن قَبْلِكَ الْخُلْدَ ﴾ یعنی له انبیاؤ او مرسلینو شخه کوم یو سړی داسی شته چه له سره مرګ ورته نه وی راغلی او تل ژوندی پاتی شوی وی؟ او که تش د رسول الله صلی الله علیه وسلم د موت له تصوره مو خپل زړونه تشول او یخول مقصود وی نو د هغه ځواب په ﴿ أَفَإِن مِّتَّ فَهُمُ الْخَالِدُونَ ﴾ کښی ورکړل شوی دی. یعنی دا خبره څه د خوښی او خوشالی ځای دی؟ آیا که ته وفات شی نو دوی به تل ژوندی پاتی کیږی او له سره به نه مری، کله چه تاسی هم وړاندی یا وروسته مرئ نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وفات خوښیدل څه معنی او موقع لری؟ په دغه لاره خو تول خلق تلونکی دی او څوک به داسی وی چه د موت خوند ونه څکی.

د قدرت د دلائلو د بیانولو شخه وروسته په دی آیت کښی د کلام مخه ګواکی د توحید او د نبوت د مسئلی طرف ته وګرځوله شوه.

وَنَبْلُوكُم بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً ۖ

او ازمایو مونږ تاسی (په دنیا کښې) په شر، بدی او په خیر، نیکی سره په ازموینه،

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ په دنیا کښې په سختی، نرمی، روغتیا، ناروغتیا، تنگسه، اړتیا (احتیاج)، مصیبت، عیش، عشرت او نورو مختلفو احوالو تاسی ازمائی څو ستاسی کره او کوته، سره او ناسره، ښه او خراب د یو بل سره جلا (جدا) او نورو ته هم د سر په سترگو ورمعلوم کړی او ښه څرگنده (ښکاره) شی چه کوم یو په سختی صبر کوی؟ او کوم یو په نعمتونو شکر کوی؟ او څومره خلق د مایوسی، شکوه شکایت او د ناشکری په مرض اخته او مبتلا دی؟

وَإِلَيْنَا تُرْجَعُونَ ﴿۳۵﴾

او خاص مونږ ته به راوستلی شئ تاسی (د جزا دپاره).

**تفسیر:** هلته به ستاسی د صبر او شکر او د هر نیک او بد عمل ثمره او نتیجه ولیدلی شی.،

وَإِذَا رَآكَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ يَتَّخِذُونَكَ إِلَّا هُزُوًا أَهَٰذَا الَّذِي يَذْكُرُ آلِهَتَكُمْ وَهُمْ بِذِكْرِ الرَّحْمَٰنِ هُمْ كَافِرُونَ ﴿۳۶﴾

او کله چه ووینی تا هغه کسان چه کافران شوی دی نو نه نیسی دوی تا مگر مسخره کړی شوی، (او وائی پخپلو منځونو کښې) آیا دا همغه څوک دی چه یادوی (په بدی او سپکه) معبودان ستاسی حال دا چه دغه کفار په یادولو د رحمٰن (په وحدانیت یا د خلقو په ارشاد) هم دوی کافران دی.

**تفسیر:** یعنی د خاتمی او انجام څخه بیخی بی فکره شوی دی او دغه خلق په محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم توکی او مسخری کوی او د استهزاء او تحقیر په لهجه داسی وائی ﴿ أَهَٰذَا الَّذِي يَذْكُرُ آلِهَتَكُمْ ﴾ آیا دا هم هغه سړی دی چه ستاسی معبودان په بدی یادوی؟» دوی په خپله په دی نه شرمیږی چه په خپله د حقیقی معبود له پاک نوم او د رحمٰن له مقدس اسم څخه بد وړی! او د پاک الله تعالیٰ له رښتینو کتابونو څخه منکر دی او د باطلو معبودانو د بدی له اوریدلو څخه خفه کیږی. نو په دی صورت کښی د دوی حالت د تعجب او خندا وړ (لائق) دی که د مقابلی دلی؟.

خُلِقَ الْاِنْسَانُ مِنْ عَجَلٍ ؕ سَاُورِیْكُمْ اٰیٰتِیْ فَلَا تَسْتَعْجِلُوْنِ ۝۳۷

پیدا کړی شوی دی انسان له تلوار (بی صبری)، ژر به وښیم تاسی ته آیات خپل (موعود عذاب) پس تلوار مه کوئ تاسی (په راتللو د عذاب)

**تفسیر:** ښائی د کفارو دغه د بیعقلی او ناپوهی اوضاع او دغه د تمسخر او استهزاء له لیدلو څخه د ځینو په زړونو کښې به دغه خبره تیره شوی وی که په دغو بی حیاؤ سم د لاسه عذاب مسلط شوی وی نو ډیر به ښه وی او په خپله کفارو هم د استهزاء په دول (طریقه) ویل چه «هله ژر شئ او هغه موعوده عذاب راباندی نازل کړئ! چه مونږ د هغه وړ (لائق) او مستحق یو» دلته دغو دواړو ته دغه خبره ښوولی شوی ده چه انسان ډیر عجلت خوښوونکی دی، ګواکی د ده په خاوره او طبیعت کښې بیړه او تلوار خلط او ګډ دی، ښائی چه دوی لږ څه صبر مځند (ایسارتیا) وکړی. ژر به زه خپل د قهر او انتقام نښی تاسی ته دروښیم.

وَیَقُوْلُوْنَ مَتٰی هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ۝۳۸

او وائی (دا کفار) کله به وی دغه وعده (د راتلو د عذاب یا د قیامت) که چیری یئ تاسی صادقان رښتینی (په خپله دغه وینا کښې).

**تفسیر:** یعنی تل ته وائی چه قیامت راتلونکی دی او تول کفار به د تل دپاره په دوزخ کښې سوځی آخر دغه وعده به کله پوره کیږی؟ که دغه خبری تولی رښتیا وی نو ولی هم دا اوس قیامت او دوزخ نه راحاضروئ (الله تعالیٰ وائی)

لَوْ یَعْلَمُ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا حِیْنَ لَا یَكُفُّوْنَ عَنْ وُّجُوْهِهِمُ النَّارَ وَلَا عَنْ ظُهُوْرِهِمْ وَلَا هُمْ یُنْصَرُوْنَ ۝۳۹ بَلْ تَاْتِیْهِمْ بَغْتَةً فَتَبْهَتُهُمْ فَلَا یَسْتَطِیْعُوْنَ رَدَّهَا وَلَا هُمْ یُنْظَرُوْنَ ۝۴۰

که پوهیدلی وی هغه کسان چه کافران شوی دی هغه وخت چه نه به شی منع کولی له مخونو خپلو اور (د دوزخ) او نه له شاګانو خپلو (ځکه چه اور به

تری چاپیر وی) او نه به له دوی سره مرسته (مدد) وکړی شی (د عذاب په منع کولو کښی نو نه به کافران کیدل) بلکه رابه شی دوی ته (دغه قیامت) ناڅاپه (بی له مقدمی) پس حیران به کړی (هغه) دوی پس طاقت نه لری دوی د لری کولو د قیامت او نه به دوی ته مهلت ورکاوه شی (د توبی او عذر)

**تفسیر:** یعنی که دوی ته حقیقت څرګند (ښکاره) شی او د هغه هیبت ناک ساعت په کیفیت او نوعیت په ښه دول (طریقه) سره ځان خبر او پوه کړی نو بیا به له سره داسی غوښتنی ونه کړی. دغه تول بیځایه اعتراضونه د بیفکری او ناپوهی له امله (وجی) د دوی په ذهنونو کښی پیدا شوی، کله چه له هغه ویروونکی وخت سره مخامخ شی او د دوی له چار چاپیره د دوزخ اور داسی احاطه وکړی چه له هیڅ لوری به د هغه دفع نشی کولی او نه به څوک ورسره مرسته (مدد) کولی شی، نه به مهلت ورکاوه شی او نه به اوس لا له پخوا څخه د هغی ورځی د کامل شان او کیفیت اندازه او اټکل کولی شی نو د دغه هولناک حالت په ناڅاپی لیدلو سره به د دوی حواس خراب شی بیا به دا ورمعلومه شی، کوم شی پوری چه مونږ خندل او باور مو پری نه کاوه هغه یو ثابت حقیقت ؤ.

وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّن قَبْلِكَ فَحَاقَ بِالَّذِينَ سَخِرُوا مِنْهُم مَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٤١﴾

او خامخا په تحقیق مسخری شوی دی په رسولانو پخوا له تا پس بیرته نازل شو په هغو کسانو چه مسخری ئی کولی له پخوانیو امتونو نه (جزا) د هغه شی چه وو دوی چه په هغه سره به ئی مسخری کولی

**تفسیر:** یعنی په هر هغه شی ئی چه مسخری کولی د هم هغه په سزا کښی سره اخته شول او د هغی خندا او ملندو مورد بیرته په خپله هم دوی وګرځیدل.

قُلْ مَن يَكْلَؤُكُم بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ مِنَ الرَّحْمَٰنِ ۗ

ووایه (ای محمده دوی ته) څوک ساتی تاسی د شپی او د ورځی له عذاب د رحمٰن څخه (که ئی درپیښ کړی؟ هیڅوک نشته)،

**تفسیر:** یعنی د رحمٰن له قهر او غصی څخه ستاسی ساتونکی بل څوک دی، یوازی د هغه پراخه

رحمت دی چه په تاسی سم د لاسه عذاب نه مسلط کوی لیکن د داسی رحمت والا، حلیم، متحمل او بردبار له قهر او غصی څخه ډیره ویره په کار ده **«نعوذ بالله من غضب الحلیم»**

بَلْ هُمْ عَنْ ذِكْرِ رَبِّهِمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿٤٢﴾

بلکه دوی له یاده د رب خپل (یا له قرآن څخه) مخ ګرځوونکی دی

**تفسیر:** یعنی د رحمٰن د حفاظت احساس او اعتراف له هغو سره نشته او عیش، عشرت، چرچی، امنیت، آرامتیا او د تنعم ژوندون دوی د الله تعالیٰ له یاده بیخی غافل کړی دی نو ځکه کله چه د هغه له طرفه دوی ته نصیحت کیږی مخ تری ګرځوی او وائی چه دا ته څه وائی؟.

اَمْ لَهُمْ اٰلِهَةٌ تَمْنَعُهُمْ مِّنْ دُوْنِنَا ۭ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ نَصْرَ اَنْفُسِهِمْ وَلَا هُمْ مِّنَّا يُصْحَبُوْنَ ﴿٤٣﴾

آیا شته دوی دپاره نور معبودان چه ساتی دوی (له عذاب څخه) غیر له مونږ نه (بلکه نشته بیا پخپله الله وائی) طاقت نه لری (دغه معبودان) د مرستی (مدد) د خپلو نفسونو او نه دوی زمونږ له (عذاب څخه) ساتل کیږی (یا ملګرتیا ورسره کاوه شی)

**تفسیر:** یعنی آیا د خپلو فرضی معبودانو په نسبت خیال کوی چه هغوی د دوی حفاظت کوی! او په خپله موقع کښی به دوی د الله تعالیٰ له عذاب څخه وژغوری (بچ کړی)؟ نو د دغو خوارانو مرسته (مدد) او حفاظت لا څه چه د خپل ځان حفاظت هم نشی کولی، که څوک هغوی ګوډ یا مات کړی یا یو شی تری واخلی نو دومره قدرت او قوت هم نه لری چه د خپل ځان مدافعه یا ساتنه وکړی یا لږ څه لاس او پښی د هغو په مقابل کښی وخوځوی یا د خپلی ساتنی دپاره زمونږ مرسته (مدد) او ملګرتیا حاصله کړی.
(نه ده داسی لکه چه کفار عقیده کوی)

بَلْ مَتَّعْنَا هٰٓؤُلَآءِ وَاٰبَآءَهُمْ حَتّٰى طَالَ عَلَيْهِمُ الْعُمُرُ ؕ

بلکه نفع رسولی ده مونږ دغو کفارو او پلرونو د دوی ته (د ژوندانه په اسبابو

سره) تر هغه پوری چه اورېده شوه په دوی باندی (موده د) عمر،

**تفسیر:** یعنی د رحمٰن ساتنه او حفاظت او د بتانو عجز او بیچارگی داسی شی نه دی چه خلق پری ونشی پوهیدلی، خبره دا ده چه دوی له ډیرو پیړیو را په دی خوا د بیفکرئ ژوند تیر کړی دی او د الله تعالیٰ د عذاب صدمه ئی هیڅ نه ده لیدلی نو ځکه دوی مغرور شوی دی او د غفلت په نشو کښی مست او بیخوده پراته دی او د الله تعالیٰ له احکامو او د انبیاؤ له پند څخه ئی مخونه گرځولی دی.

أَفَلَا يَرَوْنَ أَنَّا نَأْتِي الْأَرْضَ نَنقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَا ۚ أَفَهُمُ الْغَالِبُونَ ﴿٤٤﴾

آیا پس نه وینی (کفار) چه بیشکه موږ راتګ او (قصد) کوو ځمکی (د کفارو) ته په داسی حال چه کموو هغه له څنډو (غاړو) د دغی (ځمکی نه له فتوحاتو وروسته)، آیا پس کفار غالب دی (په مؤمنانو بلکه د اسلام په مقابل کښی مغلوب دی).

**تفسیر:** یعنی اسلام په عربو کښی مخ په خوریدو دی او کفر ورځ په ورځ کمزوری کیږی او ورو ورو ځمکه په کفارو تنګیږی، د دوی حکومتونه او ریاستونه په پرله پسی ماتیږی او له منځه په ورکیږی نو آیا د داسی ښکاره نښو، آثارو او قرائنو په لیدلو سره هم دوی خپل انجام ته نه ګوری، آیا له دغو مشاهداتو سره سره دوی دا امید لری چه په رسول الله صلی الله علیه وسلم او مسلمانانو باندی به موږ غالب شو که دوی د عبرت سترګی لری، نو په کار دی چه له عقل نه کار واخلی او له قرائنو او احوالو څخه د مستقبل اتکل (قیاس) او اندازه ولګوی. آیا دوی ته دغه خبره نه ده معلومه چه د دوی د شاو خوا کلی د انبیاء الله علیهم السلام د تکذیب او عداوت په سزا کښی تباه او وران شوی دی او په پای (آخر) کښی د الله تعالیٰ حزب بریالی (کامران) او کامیاب شوی دی بیا د سید المرسلین او کاملو مؤمنانو په مقابل کښی دوی څرنګه د خپل بری او غلبی توقع او هیله (امید) کولی شی ﴿ وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا مَا حَوْلَكُم مِّنَ الْقُرَىٰ وَصَرَّفْنَا الْآيَاتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴾ جزء ۲٦ د الاحقاف (٤) رکوع ۲۷ آیت.

**تنبیه:** په هم دی مضمون یو بل آیت هم د (رعد) د سورت په آخر کښی تیر شوی دی، د هغه تفسیر دی زموږ په دغه مبارک تفسیر کښی وکتلی شی.

قُلْ إِنَّمَا أُنذِرُكُم بِالْوَحْيِ ۚ وَلَا يَسْمَعُ الصُّمُّ الدُّعَاءَ إِذَا مَا يُنذَرُونَ ﴿٤٥﴾

ووایه (ای محمده! دوی ته) بیشکه هم دا خبره ده چه زه ویروم تاسی په وحی

سره او نه اوری کوڼ دعاء (بلنه) کله چه وویرولی شی (نو تاسی هم د کانه په شان حقه خبره نه اوریځ).

**تفسیر:** یعنی زمونږ کار د الله تعالیٰ له وحی سره سم نصیحت اورول او له خاتمی او انجام څخه خبرول دی که په زړه کانه دغه غږ نه اوری نو زمونږ قصور نه دی، دوی به د خپل کونوالی نتیجه او بده اغیزه (اثر) په خپله وګالی (برداشت کړی).

وَلَئِن مَّسَّتْهُمْ نَفْحَةٌ مِّنْ عَذَابِ رَبِّكَ لَيَقُولُنَّ يَٰوَيْلَنَآ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿٤٦﴾

او که ورسیږی دوی ته لږ څه تپ له عذابه د رب ستا نو خامخا وائی (کفار) هرومرو (خامخا) ای هلاکه زمونږ (راحاضر شه دغه دی وخت دی) بیشکه چه مونږ وو (پخوا له دغه عذاب څخه) ظالمان (په کفر سره).

**تفسیر:** یعنی دا خلق چه کانه شوی دی کله چه لږ څه تکان (تکلیف) ورکړ شی او د الله تعالیٰ عذاب لږ څه د دوی غوږونو ته ورسیږی یا د الله تعالیٰ د قهر او انتقام لږ څه تپ د دوی په ځانونو ولګیږی نو سم د لاسه به د دوی سترګی او غوږونه تول سره خلاص شی او هلته به د بد حواسۍ او وارخطائی په حالت کښی داسی چغی ووهی چه بیشکه مونږ لوی مجرمان یو او د داسی بدی ورځی د کمبختی وړ (لائق) او مستحق یو.

وَنَضَعُ الْمَوَٰزِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَٰمَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْـًٔا ۖ وَإِن كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا ۗ

او کیږدو تلی د انصاف دپاره د (اهل د) ورځی د قیامت پس ظلم به ونه کړ شی په هیڅ نفس د هیڅ شی (هیڅ)، او که وی (دغه عمل) په قدر د یوی دانی سپیلنی، اوری نو رابه وړو دغه (دانه)،

**تفسیر:** یعنی د اوری د دانی په اندازه چه د چا عمل وی هغه به هم په میزان کښی تلل کیږی او هغه به هیڅ ضائع نشی نه به په چا ظلم او تیری کیږی او د ذری ذری حساب به کیږی.

**تنبیه:** موازین د میزان جمع ده. ښائی چه هلته به ډیری تلی وی یا ممکن دی چه یوه وی مګر د مختلفو اعمالو او عمالو په اعتبار به متعددی درولی شوی وی. والله تعالیٰ اعلم. د اعمالو د وزن او د میزان په متعلق پخوا له دی نه د (الاعراف) په سورت کښی خبری شوی دی هلته دی وکتل شی.

وَكَفٰى بِنَا حٰسِبِيْنَ ﴿٤٧﴾

او بس یو مونږ حساب کوونکی (یا ساتونکی د بندګانو د اعمالو)

**تفسیر:** یعنی زمونږ حساب به داسی وروستی او فیصله کوونکی وی چه وروسته به نه بل حساب وی او نه به مونږ د دغو تولو مخلوقاتو د اعمالو د محاسبی له پاره کوم مرستیال (مددګار) ته ضرورت لرو.

وروسته ئی دا راوښوول چه د انذار او تخویف سلسله له پخوا څخه راروانه ده حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم له هغو خبرو څخه چه نن خلق ویروی پخوانیو انبیاؤ هم خلق ویرول.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ الْفُرْقَانَ وَضِيَآءً وَّذِكْرًا لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٨﴾

او هرومرو (خامخا) په تحقیق ورکړی ؤ مونږ موسیٰ او هارون ته فرقان (د حق او باطل بیلوونکی کتاب) او رنا (رڼا) (چه حق پری له باطل څخه پیژندل کیږی) او نصیحت دپاره د پرهیزګارانو

**تفسیر:** یعنی تورات شریف د حق او باطل، هدایت او ضلالت، حرامو او حلالو او نورو مسائلو فیصله کوونکی او د جهل او غفلت د تیارو رنا (رڼا) کوونکی او له الله تعالیٰ څخه د ویریدونکو دپاره پند ورکوونکی کتاب ؤ.

الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ وَهُمْ مِّنَ السَّاعَةِ مُشْفِقُوْنَ ﴿٤٩﴾

(متقیان) هغه کسان (دی) چه ویریږی له رب خپل په غیب سره او دوی (تل) له قیامت څخه ویریدونکی دی

**تفسیر:** د قیامت خطره هم ځکه دوی په خپلو زړونو کښی لری چه د دوی په زړونو کښی د الله تعالیٰ ویره ده او تل په دغه اندیښنه او سودا کښی وی چه هلته به څه راپیښیږی؟ نه چه العیاذ بالله د الله تعالیٰ د قهر او عذاب وړ (لائق) وګرځو، ښکاره ده چه هم داسی خلق د نصیحت

ښخه ګټه (فائده) اخیستلی شي.

وَهٰذَا ذِكْرٌ مُّبٰرَكٌ اَنْزَلْنٰهُ ۚ اَفَاَنْتُمْ لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ﴿٥٠﴾

او دا (قرآن) نصیحت دی مبارک چه نازل کړی (لیږلی دی) مونږ هغه (په محمد باندی)، آیا پس تاسی له دی نه انکار کوونکی یئ.

**تفسیر:** یعنی دغه قرآن چه ستاسی په مخکښی دی د نصیحت داسی یو کتاب دی چه د ده لوی ارزښت (قیمت)، زیاته ګټه (فائده) او خیر د تورات په نسبت ښه څرګند او ښکاره دی. آیا له داسی یو واضح او روښان کتاب ښخه تاسی منکریږئ چه له سره پکښی د انکار او تردد ځای نشته؟

وَلَقَدْ اٰتَيْنَآ اِبْرٰهِيْمَ رُشْدَهٗ مِنْ قَبْلُ

نو خامخا په تحقیق ورکړی ؤ مونږ ابراهیم ته نیکه حقه لاره د ده (په عقائدو او اعمالو کښی) پخوا له (نبوت یا پخوا له موسیٰ یا پخوا له محمد ښخه)

**تفسیر:** یعنی د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او حضرت موسیٰ او هارون علیهما السلام ښخه مو پخوا ابراهیم علیه السلام ته د ده د اعلیٰ قابلیت او شان سره مناسب رشد او هدایت ورکړی ؤ بلکه له ځلمیتوب ښخه پخوا لا په کوچنیتوب (ماشوم والی) کښی مو هغه په داسی سمه لار برابر کړی ؤ چه د داسی اولوالعزمو انبیاؤ له شان سره وړ (لائق) او مناسب وه.

وَكُنَّا بِهٖ عٰلِمِيْنَ ﴿٥١﴾

او وو مونږ په ده باندی پوه (چه ابراهیم د رشد له خاوندانو ښخه دی)

**تفسیر:** یعنی د ده په استعداد، اهلیت، علمی او عملی کمالاتو مونږ پوره پوه او خبر وو نو ځکه مونږ هغه رشد او هدایت ورکړ چه د ده له شان سره وړ (لائق) او مناسب ؤ.

اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖ مَا هٰذِهِ التَّمَاثِيْلُ

الَّتِيْٓ اَنْتُمْ لَهَا عٰكِفُوْنَ ﴿۵۲﴾

کله چه وویل (ابراهیم) پلار خپل (آزر) ته او قوم خپل (بابلیانو) ته چه څه دی دغه بتان هغه چه تاسی دوی ته ولاړ یئ په عبادت سره (لکه مجاوران).

**تفسیر:** یعنی لږ څه خو د دوی اصلیت او حقیقت بیان کړئ آخر په خپلو لاسونو د تیږو (ګټو) توږلی بتانو ته څنګه معبودان وایئ؟ او هغوی څرنګه ستاسی معبودان کیدی شي؟.

قَالُوْا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا لَهَا عٰبِدِيْنَ ﴿۵۳﴾

نو وویل دوی چه موندلی دی مونږ پلرونه خپل دغو (بتانو) ته عبادت کوونکی (نو مونږ هم د هغو متابعت کوو).

**تفسیر:** یعنی د عقل او د فطرت او د نقل کوم باوری شهادت زمونږ په تائید کښی نشته او نه دی وی، لیکن دیر لوی دلیل د بت پرستی په صواب او حقانیت هم دا دی چه له پخوا راهیسی زمونږ پلرونه او نیکونه د دوی په عبادت کښی بوخت او مشغول وو بیا نو مونږ د هغو خپلو لویانو دود (رواج) او دستور او طریقه ولی پریدو؟

قَالَ لَقَدْ كُنْتُمْ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۵۴﴾

وویل (ابراهیم) خامخا په تحقیق یئ تاسی او پلرونه ستاسی (په سبب د بتانو) په ګمراهی ښکاره کښی (هر عاقل ته).

**تفسیر:** یعنی په دغه دلیل سره ستاسی حقانیت او پوهه نه ثابتیږی هو! دغه خبره ثابتیږی چه تاسی هم د خپلو پلرونو په شان ګمراهان او ناپوهان ناخبره یئ! او د هغو په دغه ړوند تقلید او بیځایه متابعت تباه او بربادیږئ؟

قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا بِالْحَقِّ اَمْ اَنْتَ مِنَ اللّٰعِبِيْنَ ﴿۵۵﴾

نو وویل (بابلیانو ابراهیم ته) آیا راغلی ئی ته مونږ ته په حق سره (رښتیا خبرو سره) او که ئی ته له لوبو کوونکو څخه.

**تفسير:** د تول قوم له عقيدې څخه مخالف د حضرت ابراهيم عليه السلام د داسې سختې خبرې په اوريدلو سره د دوی په زړونو کښې سخت خفګان او اضطراب پيدا شو او ورته ئې وويل چه آيا په رښتيا سره ستا عقيده هم داسې ده؟ يا ټوکې او مسخرې کوې؟

قَالَ بَل رَّبُّكُمْ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الَّذِىْ فَطَرَهُنَّ ۖ وَاَنَا عَلٰى ذٰلِكُمْ مِّنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿٥٦﴾

وويل (ابراهيم داسې نه ده چه زه ټوکې کوم يا دا بتان رب ستاسې دي) بلکه رب ستاسې رب د آسمانونو او (رب) د ځمکې دی هغه (الله) چه پيدا کړې ئې دي دا (آسمانونه او ځمکې او مافيهما) او زه په دغو (چه ومې ويل له توحيد نه) له شاهدانو څخه يم.

**تفسير:** يعنې زما عقيده هم دا ده او په پوره يقين او بصيرت سره پرې شاهدي ورکوم چه زما او ستاسې رب هم هغه يو خدای تعالیٰ دی چه آسمانونه او ځمکې ئې پيدا کړې دي او د هغوی او نورو ټولو خپلو مخلوقاتو حفاظت او ساتنه کوی او بل هيڅ شی د ده په الوهيت کښې له سره نشي شريکيدی

وَتَاللّٰهِ لَاَكِيْدَنَّ اَصْنَامَكُمْ بَعْدَ اَنْ تُوَلُّوْا مُدْبِرِيْنَ ﴿٥٧﴾

او قسم دی په الله خامخا څه تدبير او علاج به وکړم هرومرو (خامخا) (چه مات کړم) بتان ستاسې پس له هغه چه وګرځئ تاسې شا کوونکې (بتانو ته مخ په ميله).

**تفسير:** دغه خبره ئې لږه ورو ووېله چه څينو ئې واوريده او ډيرو له سره وانه وريده هغو چه دغه خبره واوريده ورته ئې دومره اهميت ور نه کړ او داسې ئې وګڼله چه د يوه ځلمې له لاسه به څه وشي او دی به د ټول قوم معبودانو ته څه ضرر وروړسولی شي؟.

فَجَعَلَهُمْ جُذٰذًا اِلَّا كَبِيْرًا لَّهُمْ لَعَلَّهُمْ اِلَيْهِ يَرْجِعُوْنَ ﴿٥٨﴾

پس وئی گرځول دا بتان توټې توټې مګر لوی د دی بتانو (چه مات ئی نه کړ او تبر ئی په اوږه ورته کیښود) دپاره د دی چه دوی هغه ته بیرته راشي (او تری پوښتنه وکړی).

**تفسیر:** څه مهال (وخت) چه دا خلق تول له ښاره د باندی میلی ته لاړل نو حضرت ابراهیم علیه السلام بت خانی ته ورننوت، تول بتان ئی سره مات ګوډ کړل او یوازی هم هغه بت ئی روغ جوړ پریښود چه د نورو په نسبت د جثی یا د تعظیم او تکریم په اعتبار د کفارو په ګومان لوی ؤ او په هغه تبر ئی چه دغه بتان ئی پری مات کړی وو هغه ئی د هم هغه لوی بت په اوږه باندی کیښود څو چه هغه خلق بیرته راشي او دغه وضعیت وګوری نو په قدرتی ډول (طریقه) به د دوی په زړونو کښی دغسی یو خیال پیدا شی چه دغه کار هم دغه لوی بت کړی دی یا الزاماً حضرت ابراهیم علیه السلام ته رجوع وکړی.
(کفارو له میلی نه د بیرته راګرځیدلو او د خپلو بتانو د کندوکپر کیدلو څخه وروسته).

قَالُوْا مَنْ فَعَلَ هٰذَا بِاٰلِهَتِنَآ اِنَّهٗ لَمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۹﴾

وویل دوی چا کړی دی دا کار په معبودانو زمونږ بیشکه چه دی خامخا له ظالمانو دی (په دی کار کښی)

**تفسیر:** شیخ الهند او ځینو نورو مفسرینو د دی آیت ترجمه داسی کړی ده (چا کړی دی دا کار په خدایانو زمونږ الخ) یعنی دا د سپین سترګئ او د بې‌ادبئ حرکت زمونږ له معبودانو سره چا کړی دی؟ یقیناً هر چا چه دا کار کړی دی، هغه (استغفر الله) لوی ظالم او غټ شریر دی.
دا خبری به هغو کسانو کړی وی چه د هغوی غوږونو ته د ﴿ وَتَاللّٰهِ لَاَكِيْدَنَّ اَصْنَامَكُمْ ﴾ غږ نه وی رسیدلی.

قَالُوْا سَمِعْنَا فَتًى يَّذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهٗٓ اِبْرٰهِيْمُ ﴿۶۰﴾

وویل (ځینو کفارو) چه اوریدلی وو مونږ له یوه ځلمی څخه چه یادول به ئی دا بتان (په بدی سره) چه ویلی شی ده ته ابراهیم

**تفسیر:** دا ویونکی به هغه کسان وی چه د حضرت ابراهیم علیه السلام ﴿ وَتَاللّٰهِ لَاَكِيْدَنَّ اَصْنَامَكُمْ ﴾ جمله ئی اوریدلی وه یعنی هم هغه یو ځلمی دی چه زمونږ د معبودانو ذکر په بدی سره کوی. یقیناً دا کار به هم هغه کړی وی.

قَالُوا فَأْتُوا بِهِ عَلَىٰ أَعْيُنِ النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَشْهَدُونَ ۝٦١

وویل (نمرود او مشرانو ئی) چه راولئ هغه (ابراهیم) په مخکښې د سترګو د خلقو (چه وئی وینی) ښائی چه دوی ووینی (هغه او په کولو د دی کار پری شاهدی ورکړی).

**تفسیر:** یعنی هغه راولئ! او د دغه عمومی مجمع په مخکښې تری اقرار واخلئ څو په دغه خبره تول خلق خبر او دغه معامله تولو ته څرګنده (ښکاره) شی او د ده وینا هر څوک واوری او پری شاهدان شی چه د هغی په مقابل کښې د قوم له طرفه داسی یوه سزا ورته مقرره شی چه دی ئی وړ (لائق) او مستحق وی، دا خو د هغوی غرض ؤ او د حضرت ابراهیم علیه السلام مقصد به هم ښائی هم دا شی ؤ چه هم داسی په یوه لویه مجمع کښې ماته موقع راکړی شی څو زه په هغه کښې مشرکان پړ او ملامت کړم او د خلقو په وړاندی د حق او حقانیت د غلبې اظهار وکړی شم. (نو کله چه ابراهیم علیه السلام ئی راوست دغه لاندنی پوښتنی ئی تری وکړی)

قَالُوا أَأَنْتَ فَعَلْتَ هَٰذَا بِآلِهَتِنَا يَا إِبْرَاهِيمُ ۝٦٢ قَالَ بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَٰذَا فَاسْأَلُوهُمْ إِنْ كَانُوا يَنْطِقُونَ ۝٦٣

وویل (بابلیانو) آیا تا کړی دی دا کار په معبودانو زمونږ ای ابراهیمه!؟. وویل (ابراهیم) بلکه کړی دی دا کار مشر د دوی چه دا دی نو پوښتنه وکړئ تاسی له دوی که وی دوی چه خبری کوی (چه چا توټی توټی کړی یئ؟)

**تفسیر:** یعنی هیڅ ضرورت نشته چه له ما څخه د دی خبری پوښتنی وکړئ بلکه داسی فرض کړئ چه دا لوی غټ بت چه روغ رمټ جوړ ولاړ دی او د ماتولو آله هم ورسره شته دا کار به هم ده کړی وی او دا دی د بحث او تحقیق په وخت کښې د الزام او پروالی په ډول (طریقه) زه دغسی دعوی کوم چه دغه لوی بت دا تول کوچنی (واړه) بتان سره ګود او مات کړی دی، ووایئ اوس له تاسی سره څه دلیل شته چه داسی به نه وی شوی آیا په دنیا کښې داسی وقایع نه پیښیږی چه لوی مار نور واړه ماران او لوی کب نور واړه کبان ښوی تیروی او لوی باچا نور واړه سلطنتونه له منځه وړی نو څکه زما او ستاسی په منځ کښې د فیصلې ښه لاره هم دا ده چه تاسی په خپله له خپلو معبودانو څخه پوښتنه وکړئ چه دغه ماجری څرنګه ورپیښه شوی ده که

چیری دوی خبری کولی شی نو په داسی مهمه معامله کښې به پخپلو خبرو زما د دروغو او رښتیاؤ فیصله وکړی.

**تنبیه:** زمونږ له دی تقریر څخه څرګنده (ښکاره) شوه چه د «بل فعله کبیرهم هذا» وینا د اخبار په دول (طریقه) له واقعی مخالفه نه وه چه ورته حقیقتاً دروغ وویل شی بلکه د دوی د تحمیق او تجهیل دپاره د یو فرضی احتمال په شان د دعوی په صورت د تعریض او الزام په دول (طریقه) کلام شوی دی لکه چه بالعموم په مباحثو او مناظرو کښې هم داسی واقع کیږی، نو دی ته مونږ دروغ نشو ویلی هو! ظاهراً د دروغو په صورت راښکاری، نو ځکه په ځینو احادیثو کښې پری د (کذب) د لفظ اطلاق صورتاً شوی دی. مفسرانو د دی په توجیه نور څه مجمل بیان هم کړی دی، مګر زمونږ دغه تقریر ښه او زیات صاف او بی تکلفه او روایتونو ته ډیر نږدی ښکاری (والله تعالیٰ اعلم).

فَرَجَعُوٓا۟ إِلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ فَقَالُوٓا۟ إِنَّكُمْ أَنتُمُ ٱلظَّـٰلِمُونَ ﴿٦٤﴾

پس رجوع وکړه (دغو کفارو په فکر کولو سره) نفسونو خپلو ته نو وویل (ځینو ځینو نورو ته) بیشکه تاسو یئ ظالمان

**تفسیر:** یعنی وپوهیدل چه د بیکاره تیږو (ګټو) د عبادت کولو څخه څه فائده حاصلیږی یا به دا مطلب وی چه تاسی په خپله پر خپلو ځانونو ظلم کړی دی چه د ابراهیم علیه السلام د انذار اوریدلو سره بت خانه مو هم هغسی خوشی پرانستلی پریښوده او تری لاړئ او د خپلو معبودانو د حفاظت او ساتنی هیڅ فکر او تدبیر مو ونه کړو کذا قال ابن کثیر رحمة الله علیه.

ثُمَّ نُكِسُوا۟ عَلَىٰ رُءُوسِهِمْ

بیا نسکور کړل شول دوی پر سرونو خپلو (یعنی شرمنده شول خو سره له هغه هم د ابراهیم علیه السلام د مجادلی دپاره ئی ملاوی وتړلی)

**تفسیر:** یعنی له ډیره شرمه ئی خپلی سترګی نشوی پورته کولی او یو بل ته به ئی له سره نشو کتلی خو سره له هغه ئی ابراهیم علیه السلام ته داسی وویل

لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هَـٰٓؤُلَآءِ يَنطِقُونَ ﴿٦٥﴾

چه خامخا په تحقیق پوه ئی ته چه نه دی دا بتان (قابل د دی) چه وغږیږی

(نو څرنګه مونږ ته له دوی څخه د سوال کولو امر کوی).

**تفسیر:** یعنی سره له پوهی عمداً د داسی یوی ناممکنی خبری مطالبه ولی کوی آیا تیږی (ګټی) هم خبری کولی شی؟!.

قَالَ اَفَتَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ مَا لَا یَنۡفَعُکُمۡ شَیۡـًٔا وَّ لَا یَضُرُّکُمۡ ﴿۶۶﴾ اُفٍّ
لَّکُمۡ وَ لِمَا تَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ ؕ اَفَلَا تَعۡقِلُوۡنَ ﴿۶۷﴾

نو وویل (ابراهیم علیه السلام) نو آیا پس تاسی عبادت کوئ بی له الله څخه د هغه شی چه نه نفع رسوی تاسی ته د هیڅ شی او نه ضرر رسولی شی تاسی ته (د هیڅ شی). نو افسوس (او هلاک) دی تاسی ته او هغه ته چه عبادت ئی کوئ بی له الله نو آیا نه لرئ تاسی دومره عقل هم (چه د خپلو افعالو په قباحت او بدی وپوهیږئ)

**تفسیر:** یعنی تاسی ته ښائی چه له ډیره شرمه ومرئ، هغه بت چه یو لفظ هم نشی ویلی او نه د کوم احتیاج په وخت کښی مو په کار راځی او نه مو مدد کولی شی او د یوی ذری په اندازه نه څه نفع او نه څه ضرر دررسولی شی او نه ئی څه په واک (قبضه) او اختیار کښی شته هغو ته مو د خدائی درجه ورکری ده آیا په دومره غټه خبره هم نشئ پوهیدی.
(کله چه نمرودیان له مجادلی څخه عاجز شول د ابراهیم علیه السلام په سوځولو پسی شول)

قَالُوۡا حَرِّقُوۡهُ وَ انۡصُرُوۡۤا اٰلِهَتَکُمۡ اِنۡ کُنۡتُمۡ فٰعِلِیۡنَ ﴿۶۸﴾

وویل (نمرودیانو) وسوځوئ تاسی دغه (ابراهیم) او مرسته (مدد) وکړئ تاسی د معبودانو خپلو که چیری یئ تاسی کوونکی (د دی مرستی (مدد) د خپلو بتانو سره)

**تفسیر:** یعنی په بحث او مناظره ئی نشو بر کولی، اوس یوازی هم دغه یو صورت پاتی دی او هغه دا دی چه مونږ له خپلو معبودانو سره چه نه یوازی زمونږ سره بلکه له خپلو ځانونو سره هم مرسته (مدد) نشی کولی مرسته (مدد) وکړو او د دوی دښمن ته ډیره سخته سزا ورکړو که مونږ داسی ونشو کړی نو ګواکی هیڅ کار مو نه دی کړی. لکه چه د دغی مشوری سره سم داسی غوته شوه چه ښائی حضرت ابراهیم علیه السلام په اور کښی وسوځاوه شی، ګواکی څرنګه چه

ابراهیم علیه السلام د بتانو په ماتولو د دوی زړونه سوځولی وو دوی هم د هغه په بدل کښې د ده د سوځولو تجویز غوره کړ بالاخره دغه ګرد (تول) ظالمان سره تول شول او په ډیر اهتمام او بې رحمی سره ئې حضرت ابراهیم علیه السلام په ډیر لوی لمبی وهونکی او سخت سوځوونکی اور کښې وغورځاوه.
(کله چه دوی ابراهیم په اور کښې وغورځاوه د الله تعالیٰ له لوری داسې حکم وشو)

قُلْنَا يٰنَارُ كُونِي بَرْدًا وَّسَلٰمًا عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ ﴿۶۹﴾

وویل مونږ ای اوره! شه یخ او خاوند د سلامتیا پر ابراهیم باندی

**تفسیر:** یعنی اور ته تکوینی حکم وشو چه په ابراهیم علیه السلام یخ شه! مګر دومره یخ هم مه شه! چه له ډیری یخنی څه تکلیف ورته ورسیږی بلکه داسې برابر او معتدله شه چه د هغه ځان ښه په راحت شی.
**تنبیه:** د اور یخیدل پر ابراهیم علیه السلام باندی د ده معجزه وه. د معجزی حقیقت هم دا دی چه الله تعالیٰ د خپل عام عادت پر خلاف، عادی سبب له مسببه او مسبب له سبب څخه بیل کړی. دلته د احراق سبب (اور) موجود ؤ مګر مسبب پری مرتب نه شو د معجزی او نورو په متعلق زمونږ مفصل کلام په یوه مستقله مقاله کښې د «المحمود» د رسالی په څو شمارو کښې چاپ شوی دی. فلیراجع.

وَاَرَادُوْا بِهٖ كَيْدًا فَجَعَلْنٰهُمُ الْاَخْسَرِيْنَ ﴿۷۰﴾

او غوښتل (نمرودیانو) پر ابراهیم کید (مکر د سوځولو) نو وګرځول مونږ
دوی سخت زیانکاران (چه پخپل فعل کښې کامیاب نشول.)

**تفسیر:** یعنی دوی د ابراهیم علیه السلام بد غوښتل لیکن دوی په خپله په ناکامی، ذلت او زیان کښې پریوتل، د حق صداقت په ښکاره صورت څرګند (ښکاره) شو، او د الله تعالیٰ کلمه لوړه (اوچته) او علیا وګرځیده. **قال (فی البحر المحیط) قد اکثرالناس فی حکایة ماجری لابراهیم علیه السلام والذی صح هو ماذکره الله تعالیٰ من انه علیه السلام القی فی النار فجعلها الله علیه برداً وسلاما.**

وَنَجَّيْنٰهُ وَلُوْطًا اِلَى الْاَرْضِ الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا لِلْعٰلَمِيْنَ ﴿۷۱﴾

او نجات مو ورکړ دغه (ابراهيم) ته او لوط ته (او بومو تلل دواړه چه ځئ له عراقه) ځمکي هغی ته چه برکت اچولی ؤ مونږ په هغی کښی دپاره د خلقو (چه شام دی)

**تفسير:** يعنی حضرت ابراهيم مو سره د حضرت لوط عليهما السلام صحيح او سالم روغ رمت د شام ملک ته بوتلل چه هلته ډير ظاهری او باطنی برکات د وديعت په ډول (طريقه) ايښودل شوی دی.

وَوَهَبْنَا لَهٗٓ إِسْحٰقَ ؕ وَيَعْقُوْبَ نَافِلَةً ؕ

او وموبښل دغه (ابراهيم) ته (زوی) اسحٰق او (لمسی) يعقوب زيات (سر بيره د زوی پر غوښتنی د انعام په ډول (طريقه))

**تفسير:** يعنی په زوړوالی کښی ئی هلک غوښتی ؤ مونږ لمسی هم ورعطا کړ يعنی يعقوب عليه السلام.

وَكُلًّا جَعَلْنَا صٰلِحِيْنَ ﴿٧٢﴾

او دغه تول ګرځولی دی مونږ نيکان (چه خلقو ته ئی لارښوونه کوله)

**تفسير:** يعنی ابراهيم، لوط، اسحٰق، يعقوب عليهم السلام په اعلیٰ درجه سره له نيکو بندګانو ځنی دی ځکه چه ګرد (تول) د الله تعالیٰ انبياء دی او له انبياؤ ځخه پورته بل څوک نيک او ښه کيدی نشي.

وَجَعَلْنٰهُمْ أَئِمَّةً يَّهْدُوْنَ بِأَمْرِنَا

او ګرځولی وو مونږ دوی (داسی) امامان چه سمه صافه لياره ئی ښووله په حکم زمونږ سره (خلقو ته)

**تفسير:** يعنی داسی کاملان وو چه د نورو تکميل به ئی هم کاوه.

وَأَوْحَيْنَآ إِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرٰتِ وَإِقَامَ الصَّلٰوةِ وَإِيْتَآءَ الزَّكٰوةِ ۚ

او وحی کړی وه مونږ دوی ته د کولو د خیراتونو (نیکو کارونو) او د قائمولو (سم اداء کولو) د لمانځه او د ورکولو د زکوٰة

**تفسیر:** یعنی هغوی ته مو وحی لیږلی وه چه په هغی کښې د دغو امورو تاکید هم ؤ ځو نه یوازی دوی عاملان شی بلکه نور خلق هم د هغو ښو اعمالو په کولو باندی وګماری (ولمسوی) دغه د دوی علمی کمال شو.

وَكَانُوا لَنَا عٰبِدِيْنَ ﴿٧٣﴾

او وو دوی (ټول) خاص مونږ ته عبادت کوونکی

**تفسیر:** یعنی شپه او ورځ به زمونږ په بندګی او عبادت کښې بوخت (مشغول) وو، بل کوم طرف ته به ئې سترګی نه اړولی، هم دغه د انبیاؤ شان دی چه د دوی په هر کار کښې د الله تعالیٰ د بندګی اشتراک هرومرو (خامخا) وی. دغه د دوی عملی کمال شو نو تاسی ای عربو چه د ابراهیم علیه السلام اولاد یئ او د هغه د متابعت دعوی کوئ ولی د هغو د دی علمی او عملی کمالاتو متابعت نه کوئ؟ بلکه حقیقتاً ئې تابعان شئ!

وَلُوْطًا اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا

او لوط ته ورکړی ؤ مونږ ده ته حکم (نبوت) او پوهه

**تفسیر:** (لوطاً منصوب دی په فعل مقدر سره چه تفسیر ئې په آتینا سره شوی دی) یعنی داسی حکمت، حکومت، علم او فهم چه د انبیاؤ له شان سره لایق وی.

وَنَجَّيْنٰهُ مِنَ الْقَرْيَةِ الَّتِيْ كَانَتْ تَّعْمَلُ الْخَبٰٓئِثَ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمَ سَوْءٍ فٰسِقِيْنَ ﴿٧٤﴾

او نجات ورکړی ؤ مونږ دغه (لوط) ته له (خلقو د ) کلی هغه چه وو هغوی چه کول به ئې عملونه خبیث ناپاکه بیشکه چه هغوی وو قوم د بدی نافرمان

**تفسیر:** له کلی ښخه مراد «سدوم» او بلکه د هغه ملحقات دی. د دی ځای خلق په خلاف الفطرت کارونو مبتلا وو، د دوی قصه پخوا شو ځایه تیره شوی ده.

وَأَدْخَلْنَٰهُ فِى رَحْمَتِنَآ ۖ إِنَّهُۥ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٧٥﴾

او داخل کړی ؤ مونږ دی په رحمت خپل کښی، بیشکه دی له نیکانو ښخه دی.

**تفسیر:** یعنی کله چه د لوط پر قوم باندی مو عذاب نازل کړ نو لوط مو د خپلو ملګرو سره د خپلی مهربانی او رحمت په څادر کښی پټ کړ څو د نیکانو او بدانو عاقبت او انجام بیل بیل سره څرګند (ښکاره) شی.

وَنُوحًا إِذْ نَادَىٰ مِن قَبْلُ فَٱسْتَجَبْنَا لَهُۥ فَنَجَّيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥ مِنَ ٱلْكَرْبِ
ٱلْعَظِيمِ ﴿٧٦﴾ وَنَصَرْنَٰهُ مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَآ ۚ
إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَوْمَ سَوْءٍ فَأَغْرَقْنَٰهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٧٧﴾

او (یاد کړه ای محمده! قصه د) نوح کله چه غږ ئی وکړ (په ښیرا د قوم خپل) پخوا (له دغو مذکوره ؤ انبیاؤ) یعنی پخوا له ابراهیم او لوط علیهما السلام ښخه. پس قبول کړ مونږ ده ته (سوال د ده) نو نجات ورکړ مونږ ده ته او کورنی د ده ته له غمه لویه (چه د طوفان ویره او د کافرانو ضرر ؤ) او مرسته (مدد) مو وکړه له ده سره (په انتقام اخیستو د ده) له قومه هغه چه نسبت د دروغو ئی کړی ؤ آیتونو زمونږ ته، بیشکه دوی وو قوم بد (ناکاره) نو غرق کړل مونږ دوی تول.

**تفسیر:** نوح علیه السلام تر نهه نیم سوو کلونو پوری خپل قوم وپوهاوه او په دومره اوږده موده کښی ئی ډیری سختی او ربړونه (تکلیفونه) وګالل (برداشت کړل) خو په زړه پوری هیڅ اثر او نتیجه ئی څرګنده (ښکاره) نشوه بالاخره په تنګ راغی او داسی دعاء ئی وکړه ﴿ أَنِّى مَغْلُوبٌ فَٱنتَصِرْ ﴾ (۲۷) جزء د القمر د سورت (۱۰) آیت (۱) رکوع، او ﴿ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى ٱلْأَرْضِ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ دَيَّارًا ﴾ (۲۹) جزء د نوح د سورت (۲٦) آیت (۲) رکوع، نو الله تعالیٰ دغه

دعاء قبوله کړه او کفار ئی په طوفان غرق کړل او نوح علیه السلام ئی د خپلو ملګرو سره د طوفان له هیبت او د کفارو له ضرر رسولو څخه صحیح او سلامت وویست. دغه قصه په مفصل دول (طریقه) پخوا تیره شوی ده.

---

وَدَاوٗدَ وَسُلَیْمٰنَ اِذْ یَحْکُمٰنِ فِی الْحَرْثِ اِذْ نَفَشَتْ فِیْهِ غَنَمُ الْقَوْمِ ۚ وَکُنَّا لِحُکْمِهِمْ شٰهِدِیْنَ ﴿۷۸﴾ فَفَهَّمْنٰهَا سُلَیْمٰنَ ۚ وَکُلًّا اٰتَیْنَا حُکْمًا وَّعِلْمًا ۫

---

او (یاده کړه ای محمده! قصه د) داؤد او سلیمان کله چه حکم کاوه هغو دواړو په (دعوی او نزاع د) کښت (فصل) کله چه د شپې ګډه شوی وه (بی له شپانه) په هغه (کښت) کښې رمه د (هغه) قوم او وو مونږ حکم د دوی ته حاضر پس ومو پوهاؤ په هغه (فتویٰ، فیصله) سلیمان او هر یوه د دوی دواړو ته ورکړی ؤ مونږ حکم (نبوت) او پوهه

---

**تفسیر:** حضرت داؤد علیه السلام د الله تعالیٰ نبی ؤ، حضرت سلیمان علیه السلام د ده زوی ؤ او هم د پاک الله تعالیٰ نبی ؤ، دغه پلار او زوی ته الله تعالیٰ پرته (علاوه) له نبوته حکومت، علم، حکمت، د فهم قوت او د فیصلو قدرت هم وربښلی ؤ، حضرت سلیمان علیه السلام لا په هلکتوب کښې داسی فوق العاده پخې خبری او ښایسته ویناوی کولی چه تول اوریدونکی به ورته حیران پاتی کیدل. د حضرت داؤد علیه السلام حضور ته داسی یوه دعوی وړاندی شوه چه د یوه سړی په کښت (فصل) کښې د نورو خلقو میږی (ګډی) د شپې ګډی شوی وی او د هغه کښت (فصل) ئی تر پښو لاندی او زیانمن کړی ؤ، کله چه داؤد علیه السلام په دغه دعوی کښې غور وکړ وربښکاره شوه چه د دغو میږو (ګډو) قیمت د هغه نقصان سره برابر او معادل دی چه هغه کښت (فصل) ته رسول شوی دی، نو داسی فیصله ئی صادره کړه چه «دغه میږی (ګډی) دی د کښت (فصل) خاوند ته ورکړی شی!» حضرت سلیمان علیه السلام وویل چه زما «نظریه او فیصله دا ده چه دغه د کښت (فصل) خاوند دی دغه میږی (ګډی) له خپله ځانه سره وساتی او شودی دی وخوری او د میږو (ګډو) خاوند دی د کښت (فصل) خدمت وکړی، تر څو چه کښت (فصل) خپل پرومبی حالت ته ورسیږی نو په دغه وخت کښې دی میږی (ګډی) بیرته خپل خاوند او کښت (فصل) خپل خاوند ته وسپارل شی نو په دی ترتیب او صورت سره به دواړه له نقصان نه وژغورل (وساتل) شی» حضرت داؤد علیه السلام چه دا فیصله واوریده نو آفرین ئی ورته وویل او د خپل اجتهاد نه وګرځید، ګواکی د فقهی د اصولو په اصطلاح کښې ئی د سلیمان علیه السلام

استحسان د خپل قیاس په مقابل کښې قبول کړ. دغه فیصله چه پلار او زوی د مدعی او مدعی علیه په نسبت صادره کړه، الله تعالیٰ ته ښکاره او معلومه وه او دغو دواړو ته پاک الله پوهه او د فیصلی قوت ورکړی ؤ لیکن الله په اصل حقیقت حضرت سلیمان علیه السلام پوه کړ او حضرت سلیمان علیه السلام هغی نتیجی ته ورسید چه د الله تعالیٰ په نزد اصلح او اصوب ؤ او بالاخره داؤد علیه السلام هم هغه ومنله. له دغی واقعی څخه ښکاره شوه سره له دی چه انبیاء الله علیهم السلام سلطنت ته ورسیږی خو بیا هم د خلق الله ډیرو وړو معاملو ته هم داسی توجه کوی لکه چه لویو لویو کارونو ته اهمیت ورکوی.

وَسَخَّرْنَا مَعَ دَاوٗدَ الْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَالطَّيْرَ ؕ

او تابع کړی وو موږ له داؤد سره غرونه چه تسبیح به ئی ویلی او (هم داسی تابع کړی وو موږ) مرغان هم (چه تسبیح به ئی ورسره ویلی)

**تفسیر:** حضرت داؤد علیه السلام د ډیر ښه غږ او د خواږه آواز خاوند ؤ د نبوت په هغه مؤثر او اغیزه‌ناک (اثرناک) غږ چه ده به خپل طبیعی جوش سره زبور شریف لوست یا د پاک الله په تسبیح او تحمید کښې مشغولیده نو غرونو، مرغانو او نورو حیواناتو به هم د هغه د غږ په متابعت په لوستلو پیل (شروع) کاوه.

وَكُنَّا فٰعِلِيْنَ ﴿۷۹﴾

او وو موږ کوونکی (د داسی کارونو)

**تفسیر:** یعنی تعجب مه کوه چه تیری (ګټی) او مرغان به څرنګه تهلیل او تسبیح وائی. دغه ټول کارونه موږ لا پخوا کړی وو. ښه! زموږ د لامحدود قدرت له مخی آیا دغه خبری څه مشکلی او مستبعدی ګڼلی کیدی شی بلکه نه نشی کیدی!.

وَعَلَّمْنٰهُ صَنْعَةَ لَبُوْسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُمْ مِّنْۢ بَاْسِكُمْ ۚ

او ښوولی ؤ موږ دغه (داؤد) ته جوړول د زغری تاسی ته دپاره د دی چه وساتی تاسی (دا زغره ای انسانانو) له ضرره د جنګ (د دښمنانو) ستاسی

**تفسیر:** الله تعالیٰ د حضرت داؤد علیه السلام په لاس کښې اوسپنه د موم په شان پسته او نرمه

ګرځولی وه ده به هغه سره تاووله او نهایتی سپکی مضبوطی او ښکلی زغری به ئی جوړولی چه د جنګ په وخت کښی به تری کار اخیست کیده.

فَهَلۡ اَنۡتُمۡ شٰکِرُوۡنَ ﴿۸۰﴾

پس آیا یئ تاسی شکر کوونکی (یعنی شکر وکړئ).

**تفسیر:** یعنی ستاسی د ګټی دپاره مونږ د داؤد علیه السلام په ذریعه داسی عجیب صنعت راویست نو تاسی ښه فکر وکړئ چه د دی راز (قسم) نعمتونو تاسی څه شکر ادا کوئ؟

وَلِسُلَیۡمٰنَ الرِّیۡحَ عَاصِفَۃً تَجۡرِیۡ بِاَمۡرِہٖۤ اِلَی الۡاَرۡضِ الَّتِیۡ بٰرَکۡنَا فِیۡهَا ؕ

او (تابع کړی ؤ مونږ) سلیمان ته باد توند (تیز) چه روانیده په حکم د ده (سلیمان او رساوه به ئی) ځمکی (د شام ته) هغی ته چه برکت ایښی ؤ مونږ په هغی کښی،

**تفسیر:** حضرت سلیمان علیه السلام داسی دعاء کړی وه ﴿ رَبِّ اغۡفِرۡ لِیۡ وَهَبۡ لِیۡ مُلۡکًا لَّا یَنۡۢبَغِیۡ لِاَحَدٍ مِّنۡۢ بَعۡدِیۡ ﴾ ۲۳ جزء د (ص) د سورت (۳۵) آیت (۳) رکوع نو الله تعالیٰ هوا او پیریان د ده تابع کړی وو. حضرت سلیمان علیه السلام داسی یو تخت تیار کړی ؤ چه د دولت له اعیانو او مشرانو سره به پری کیناسته او ضروری لوازم او سامان به ئی هم له خپل ځان سره اخیستل بیا به هوا راتله او هغه تخت به ئی په ډیره چابکی پورته کاوه، کله چه به هغه په مناسبه اندازه له ځمکی څخه پورته کیده بیا به هوا نرمیده او له ضرورت سره سم به کمی او زیاتی پکښی پیدا کیده لکه چه د (ص) د سورت په (۳٦) آیت (۳) رکوع (۲۳) جزء کښی راغلی دی ﴿ رُخَآءً حَیۡثُ اَصَابَ ﴾ له «یمن» څخه «شام» ته او له شام څخه یمن ته چه د یوی میاشتی لاره ده په (٥) ګړیو (ګینټو) کښی رسیده تعجب دی چه د نن ورځی د عجیبو او غریبو هوائی جهازونو په زمانه کښی هم ډیر منحرفین له دی دول (طریقه) واقعاتو څخه انکار کوی آیا هغه کار چه نن ورځ ئی یورپ والا د بخار او برق او نورو په ذریعه کولی شی، الله تعالیٰ ئی د خپل یو نبی له امله (وجی) په خپل قدرت سره نشی کولی بلکه کولی ئی شی.

وَكُنَّا بِكُلِّ شَيۡءٍ عَٰلِمِينَ ﴿٨١﴾

او یو مونږ په هر شی عالمان،

**تفسیر:** یعنی چه چا ته څه قسم امتیاز ورکول مناسب دی او له هوا او له نورو عناصرو څخه په څه ډول (طریقه) سره کار اخیستل کیدی شی.

وَمِنَ ٱلشَّيَٰطِينِ مَن يَغُوصُونَ لَهُۥ وَيَعۡمَلُونَ عَمَلٗا دُونَ ذَٰلِكَۖ

او (تابع کړی وو مونږ ده ته) ځینی له شیطانانو څخه هغه چه غوتی به ئی وهلی (په سیند کښی) د ده دپاره او کول به ئی (نور ډیر) کارونه بی له دی نه

**تفسیر:** له شیاطینو څخه مراد سرکش پیریان دی، دوی د حضرت سلیمان علیه السلام له لوری مامور وو چه په لویو لویو سیندونو کښی غوپی ووهی او مرغلری، جواهر او نور بحری حاصلات د هغو له تل څخه راوکاږی، او په دغو پیریانو به ودانیو او نورو عمرانی کارونو کښی سخت او درانه کارونه وکړی د یوه لوی حوض په اندازه د مسو لګنونه (خانکونه) او لوی لوی دیګونه به ئی پری جوړول چه له سره به له خپله ځایه چا نشو خوځولی او له یوه ځایه بل ځای ته به ئی پری وړل او بارول او لاندی باندی به ئی سره کول او له ډیرو سختو څخه سخت کارونه به ئی تری اخیستل معلومیږی هغه حیرانوونکی کارونه چه الله تعالیٰ په دی زمانه کښی د مادی قوتونو په واسطه کوی دغه کارونه به ئی په هغه وخت کښی د مخفی او روحی قوتونو په ذریعه کول.

وَكُنَّا لَهُمۡ حَٰفِظِينَ ﴿٨٢﴾

او وو مونږ دوی لره ساتونکی (له فساد څخه)

**تفسیر:** یعنی مونږ په خپل کامل قدرت دغه شیاطین په داسی شان د حضرت سلیمان علیه السلام په قبضه او قید کښی تینګ، مضبوط او بند ساتلی وو چه هر څه ئی غوښتل هغه به ئی وربانده د بیګار په ډول (طریقه) کول او دوی له سره حضرت سلیمان ته هیڅ یو ضرر نشو رسولی که نه د بنیادم په څه زور او قوت وی چه داسی یو شریر مخلوق په خپله قبضه کښی په سختو ځنځیرونو کښی بند وساتی ﴿ وَءَاخَرِينَ مُقَرَّنِينَ فِي ٱلۡأَصۡفَادِ ﴾ (۲۳) جزء د (ص) د سورت (۳۸) آیت ۳ رکوع.

وَاَيُّوْبَ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗۤ اَنِّىْ مَسَّنِىَ الضُّرُّ وَاَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿۸۳﴾ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ فَكَشَفْنَا مَا بِهٖ مِنْ ضُرٍّ وَّاٰتَيْنٰهُ اَهْلَهٗ وَمِثْلَهُمْ مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِنَا

او (یاده کړه ای محمده ! قصه د) ایوب کله چه ندا غږ ئی وکړ رب خپل ته چه بیشکه زه رسیدلی دی ماته ضرر (رنځ او سختی په بدن کښی) او ته ډیر مهربان ئی له ټولو مهربانانو څخه. پس قبوله کړه مونږ دعاء د ده پس لری کړ مونږ هغه چه ؤ په ده باندی له (بدنی او مالی) ضرره او ورکړ مونږ دغه (ایوب) ته اهل د ده او په مثل د هغوی له هغوی سره په رحمت سره له نزده زمونږ

**تفسیر:** حضرت ایوب علیه السلام ته الله تعالیٰ په دنیا کښی له هر حیثه آرامی او هوسائی (راحت) ورکړی وه ځمکه، کښت، (فصل) مال مالداری، مریان، وینځی، صالح اولاد او ښه په زړه پوری ښځه ئی ورکړی وه حضرت ایوب علیه السلام د الله تعالیٰ لوی شکر کوونکی بنده وو. لیکن الله تعالیٰ دی په ابتلاء او ازموینه کښی واچاوه کښتونه (فصلونه) ئی وسوځیدل، رمی او ګلی ئی تباه شوی، اولاد ئی تر چت لاندی مړه شول، ټول دوستان آشنایان او خپلوان تری بیل شول، د ده په وجود سختی دانی وختلی او چینجی ئی وکړل له دغومره مالونو، شتو، نوکرانو، خپلو او خپلوانو څخه یواځی د ده یوه ښځه ورسره ملګری پاتی وه بالاخره دغه خواره هم ستړی ستومانه او زړه تنګی شوه مګر حضرت ایوب علیه السلام همغسی چه په نعمت کښی د پاک الله شکر کوونکی بنده ؤ په زحمت او ابتلاء کښی هم صابر پاتی شو کله چه د ده تکلیف او اذیت او د دښمنانو شماتت له حده تیر شو بلکه دوستانو هم په داسی ویناؤ باندی شروع وکړه چه یقیناً ایوب علیه السلام د کومی داسی سختی ګناه مرتکب شوی دی چه د هغی له اثره په داسی سخته بلا اخته دی نو دلته حضرت ایوب علیه السلام لاس په دعا شو چه ﴿ وَاَيُّوْبَ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗۤ اَنِّىْ مَسَّنِىَ الضُّرُّ وَاَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴾ هم دا چه ده د خپل رب په دربار کښی دا سوال وکړ. سم د لاسه د رحمت سیند په جوش او چپو شروع وکړه الله تعالیٰ ده ته د مړو اولادونو پر ځای یو په دوه اولادونه ورکړل او د ځمکی څخه ئی چینه راویستله حضرت ایوب علیه السلام له هغی څخه اوبه وڅښلی او هم ئی ورباندی ولمبل سم د لاسه روغ رمټ شو او ټول تکلیفونه ئی لری شول لکه چه په حدیث کښی راغلی دی د سرو زرو ملخان ئی ورباندی وورول، لنډه دا چه له هر حیثه ورته د ارامتیا اسباب برابر شول.

ځینی مفسرین داسی لیکی چه هغه مړه اولادونه ئی بیرته ورته ژوندی کړل او په مثل د هغو نمسی ئی چه مړه شوی وو بیرته ورته ژوندی کړل.

وَذِكْرَىٰ لِلْعَٰبِدِينَ ﴿٨٤﴾

او نصیحت دپاره د عبادت کوونکو (هر څوک چه داسی صبر کوی هم داسی نتیجی به هم مومی)

**تفسیر:** یعنی په ایوب علیه السلام د دغی مهربانی کیدلو په اثر تولو بندگی کوونکو ته لوی پند او نصیحت او یو مهم یادگار پاتی شو چه هر کله په کوم یو نیک بنده په دنیا کښی کومه تنگسه یا مصیبت راشی ښائی چه د ایوب علیه السلام په شان صبر، استقامت، ثبات او استقلال وښئی او یوازی خپل پروردگار ته دعاء او نداء وکړی یقین دی چه الله تعالیٰ به پری د عنایت نظر وکړی او یوازی د داسی یوی ابتلاء له لیدلو څخه نه ښائی چه څوک داسی گومان وکړی چه البته دغه بنده د الله تعالیٰ په دربار کښی مبغوض دی

وَإِسْمَٰعِيلَ وَإِدْرِيسَ وَذَا ٱلْكِفْلِ ۖ كُلٌّ مِّنَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿٨٥﴾

او (یاده کړه ای محمده! قصه د) اسمٰعیل او ادریس او ذوالکفل، دغه تول دی له صبر کوونکو څخه (په طاعت او مصیبت او له معصیت څخه)

**تفسیر:** یعنی دغه نیک بنده گان می یاد کړئ د اسمٰعیل او ادریس علیهما السلام ذکر پخوا له دی نه د (مریم) په سورت کښی تیر شو د «ذاالکفل» په نسبت اختلاف دی چه نبی ؤ لکه چه د انبیاؤ په ډله کښی د هغه له یادولو څخه څرگندیږی نو دغه به یا الیاس یا یوشع یا زکریا وی یا یوازی یو صالح سړی ؤ. وائی چه دی د یو چا ضامن شوی ؤ او د هغه له امله (وجی) څو کاله بندی پاتی شو او خاص د خدای جل جلاله دپاره ئی دغه تکلیف وگاله (برداشت کړو) .

**تنبیه:** د امام احمد په مسند او جامع الترمذی کښی د یو سړی قصه راغلی ده چه پخوا ډیر سخت بدکار، فاسق او فاجر ؤ او وروسته تائب شو الله تعالیٰ به هم دی دنیا کښی د هغه د مغفرت زیری خلقو ته ورکړ د هغه نوم په حدیث کښی «کفل» راغلی دی ظاهراً دا هغه ذوالکفل نه دی چه د هغه ذکر په قرآن کښی راغلی دی، والله اعلم. زمونږ د زمانی د ځینو مصنفینو خیال دی چه ذوالکفل هم هغه دی چه ورته «حزقیل» هم وائی (والله تعالیٰ اعلم).

وَأَدْخَلْنٰهُمْ فِي رَحْمَتِنَا ۖ إِنَّهُمْ مِّنَ الصّٰلِحِينَ ﴿٨٦﴾
وَذَا النُّونِ إِذْ ذَّهَبَ مُغَاضِبًا فَظَنَّ أَنْ لَّنْ نَّقْدِرَ عَلَيْهِ
فَنَادٰى فِي الظُّلُمٰتِ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحٰنَكَ ۖ
إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِينَ ﴿٨٧﴾

او داخل کړي وو مونږ دوی په رحمت خپل کښې (چه نبوت او جنت دی) بیشکه چې دوی دی له صالحانو نیکانو کاملانو او (یاد کړه ای محمده! قصه د) خاوند د ماهی کله چه لاړ حال دا چه په قهر ؤ (په قوم خپل) پس گومان ئی وکړ چه له سره به نشو مونږ قادر په نیولو د ده (یا گومان ئی وکړ چه له سره به تنگی نه راولو په ده.) پس غږ ئی وکړ په تیارو کښې (داسی) چه نشته بل برحق معبود مگر ته ئی (یوازی) پاکی ده تا ته له عیبونو بیشکه چه زه وم له ظلم کوونکو څخه (په خپلو تللو کښې بی له اذن څخه)

**تفسیر:** یونس علیه السلام ته ئی «ذاالنون ـ ماهی والا» وویل چه لنده قصه ئی دا ده الله تعالیٰ یونس علیه السلام د «نینویٰ» د ښار په طرف چه د موصل له مربوطاتو څخه دی مبعوث کړی ؤ چه د هغه ځای خلق له بت پرستۍ څخه منع کړی او د حق په طرف بلنه ورکړی مگر هغوی له سره د یونس علیه السلام خبرو ته غوږ کینښود بلکه ورځ په ورځ د دوی عناد او تمرد لا پسی زیاتیده آخر حضرت یونس علیه السلام د هغوی په حق کښې ښیرا وکړه او دی پخپله د دوی له ناپاکو حرکاتو څخه خفه او په ډیر قهر او غضب سره له ښاره ووت او د الله تعالیٰ حکم ته ئی انتظار ونه کړ او له خپل قوم سره ئی وعده وکړه چه دری ورځې وروسته به پر تاسی د الله تعالیٰ عذاب نازل شی، د یونس علیه السلام د وتلو څخه وروسته د ده قوم وپوهید چه د نبی ښیرا بی‌اثره نه پاتی کیږی او هرومرو (خامخا) پر مونږ آفت نازلیدونکی دی، ممکن چه د عذاب څه آثار به هم دوی ته ورښکند شوی وی نو ځکه دوی گرد (تول) سره ووېریدل. لوی واړه سره له حیواناتو له خپلو کورونو څخه ووتل او په یوه ځنگل کښې ننوتل او میندی له کوچنیانو (بچو) څخه بیلی کړی شوی او گرد (تول) الله تعالیٰ ته په ژړا او واویلا شول، د کوچنیانو (ماشومانو) میندی، لوی او واړه تول داسی په ژړا او انگولا شول چه تول صحرا او بیدیا د دوی له شور او غوغا، زاری او دعاگانو څخه ډکه شوه، او د دغه ښار گردو (تولو) خلقو په ډیر اخلاص او صداقت سره توبه وویستله او تول بتان ئی مات کړل او د الله تعالیٰ د اطاعت او عبادت کلک عهد ئی وکړ او د حضرت یونس علیه السلام په لتون کښې شول که چیری مو وموند نو د ده د حکم

او ارشاد متابعت به کوو، نو الله تعالیٰ هغه راتلونکی عذاب د دوی له سره ستون (واپس) کړ.
لکه چه جزء ۱۱ د یونس د سورت په ۹۸ آیت (۱۰ رکوع) کښې ئې ویلی دی
﴿ فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ اٰمَنَتْ فَنَفَعَهَآ اِيْمَانُهَآ اِلَّا قَوْمَ يُوْنُسَ ۚ لَمَّآ اٰمَنُوْا كَشَفْنَا عَنْهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَمَتَّعْنٰهُمْ اِلٰى حِيْنٍ ﴾
له یوی خوا چه یونس علیه السلام له خپلی قریی څخه ووت او له
یوی دلی سره په یوی بیړی کښې سور شو کله چه دغه بیړی د سیند منځ ته ورسیده د دوبیدلو
نښې پکښې څرګندی شوی، بیړی چلوونکی د بیړی د سپکولو په چرت (خیال) کښې شو او
داسی ئې غوښتل چه کوم یو سړی دی په سیند کښې وغورځاوه شی یا له خپلو مفروضاتو سره
سم ئې داسی ګومان وکړ چه په دغی بیړی کښې داسی کوم مرئی سور دی چه له خپل بادار
(مالک) څخه تښتیدلی دی نو ځکه د داسی سړی د معلومولو له پاره ئې چه په سیند کښې
وغورځول شی پچه (قرعه) واچوله نو دغه پچه (قرعه) د یونس علیه السلام په نامه ووته او دوه دری
ځلی دغه وضعیت تکرار شو خو هر ځل به د هم دغه یونس علیه السلام په نامه پچه (قرعه)
راوتله، د دغه وضعیت په لیدلو، یونس علیه السلام خپل ځان سیند ته وغورځاوه، سم د لاسه یو
ماهی راغی او هغه ئې ښوی (روغ) تیر کړ، الله تعالیٰ ماهی ته حکم وکړ چه یونس پخپله ګیده
کښې وساته چه د هغه یوه ویښته ته ضرر ونه رسیږی، دا ستا روزی نه ده بلکه مونږ ستا ګیده د
ده دپاره بندیخانه ګرځولی ده، دی پکښې محفوظ وساته، په دغه وخت کښې یونس علیه السلام
د الله تعالیٰ په دربار کښې داسی دعاء وکړه ﴿ لَّآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ ۖ اِنِّيْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴾
او په خپله خطا ئې اعتراف وکړ چه بیشکه ما تلوار وکړه، او ستا د حکم راتګ ته
می انتظار ونه کړ او په خپل سر می خپل امت او د هغوی ښار پری ښود، که څه هم د یونس
علیه السلام دغه غلطی یوه اجتهادی غلطی وه چه د امت دپاره معاف ده مګر د انبیاؤ تربیت او
تهذیب له عامو خلقو څخه ممتاز وی په داسی یوه معامله کښې چه د وحی د نزول امید وی بی له
انتظاره د ښار څخه وتل او خپل قوم بی سره پریښودل د یوه نبی له شان سره لایق نه ؤ (فنادی
فی الظلمات - پس غږ ئې وکړ په تیارو کښې یعنی د سیند په ژورو او د ماهی په ګیده او د
شپی په تیارو کښې، داسی چه ﴿ لَّآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ ۖ اِنِّيْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴾ چه
نشته بل برحق معبود مګر هم دا ته ئې، پاکی ده یوازی تاته له عیبونو بیشکه زه وم له ظلم
کوونکو څخه په تګ خپل کښې) یعنی زما خطا راوښنه بیشکه چه له ما ځینی غلطی صادره
شوی ده په هم دغه حرکت دغه سختی او ابتلا پری راغله، څو ئې توبه وویسته او نجات ئې
وموند او هغه ماهی د الله تعالیٰ په اراده د سیند غاړی ته خپله خوله د باندی وویسته او دی ئې
روغ رمټ له خپلی ګیدی څخه د باندی وغورځاوه دی خپل قوم ته روغ او جوړ بیرته ورغی او په
خپله هم هغه مقدسه وظیفه مشغول شو ﴿ فَظَنَّ اَنْ لَّنْ نَّقْدِرَ عَلَيْهِ ﴾ پس ګومان ئې وکړ، الخ)
یعنی داسی خیال ئې وکړ چه مونږ به په دغه حرکت له ده څخه هیڅ یوه پوښتنه نه کوو یا
داسی له مونږ څخه وتښتید لکه چه څوک داسی ګومان وکړی چه اوس به می هیڅوک ونه نیولی
شی او نه به می بیرته راوستی شی ګواکی چه دی له هغه کلی څخه ووت لکه چه زمونږ له قدرت

نه ووت، دا مطلب نه دی چه معاذ الله یونس علیه السلام به په واقع کښې داسې خیال کړی وی، داسې خیال خو د یوه ادنیٰ مؤمن په زړه کښې هم نه پیدا کیږی بلکه مطلب دا دی چه دغه صورت حال داسې ؤ چه له هغه څخه داسې یوه مفکوره پیدا کیدی شوه. د الله تعالیٰ عادت دی چه دی د کاملینو یو ډیر ادنیٰ ښوئیدل په ډیره سخته پیرایه (اسلوب) سره اداء کوی لکه چه مونږ پخوا له دی نه په څو څو ځایونو کښې لیکلی دی او په دی سره د کاملینو تنقیص نه بلکه د دوی شان او جلال څرګندیږی چه د دومره عظمت سره سره ولې دومره لړ هم وښوئیږی.

فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ ۙ وَنَجَّيْنٰهُ مِنَ الْغَمِّ ؕ وَكَذٰلِكَ نُـْۨجِي الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۸۸﴾

پس قبوله کړه مونږ دعاء د دغه (یونس) او نجات مو ورکړ دغه (یونس) ته له غمه (د سیند او ماهی) او هم داسې (چه یونس ته مو نجات ورکړ) نجات ورکوو مونږ مؤمنانو ته

**تفسیر:** یعنی نجات د یونس علیه السلام سره مخصوص نه دی هر هغه ایمان داره چه په هم دغه شان مونږ وبولی مونږ هغه ته هم له بلیاتو څخه نجات ورکوو. په احادیثو کښې د دی دعاء ډیر فضیلت راغلی دی او امت د سختیو او مصیبتونو په وخت کښې تل دغه دعا ډیره مجربه موندلې ده.

وَزَكَرِيَّآ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗ رَبِّ لَا تَذَرْنِيْ فَرْدًا وَّاَنْتَ خَيْرُ الْوٰرِثِيْنَ ﴿۸۹﴾ ۚ

او (یاده کړه ای محمده! قصه د) زکریا کله چه غږ وکړ رب خپل ته (داسې چه) ای ربه زما مه پریږده ما یوازې (بې اولاده) او ته ئې غوره له (ګردو (تولو)) وارثانو نه.

**تفسیر:** یعنی داسې اولاد راکړی چه وروسته له ما د قوم دینی خدمت وکړی شی او زما د دغو تعلیماتو د خوړولو د عهدې څخه ووتلی شی. لکه چه د مریم د سورت په تفسیر کښې مو لیکلی دی کله چه زکریا علیه السلام داسې وارث غوښته چه په «یرثنی ویرث من آل یعقوب» (د مریم (۱) رکوع) کښې مذکور دی نو د هغه په تناسب سره ئې الله تعالیٰ هم په دغه نامه سره یاد کړ.

فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ ۫ وَوَهَبْنَا لَهٗ يَحْيٰى وَاَصْلَحْنَا لَهٗ زَوْجَهٗ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا يُسٰرِعُوْنَ فِي الْخَيْرٰتِ وَيَدْعُوْنَنَا رَغَبًا وَّرَهَبًا ؕ وَكَانُوْا لَنَا خٰشِعِيْنَ ﴿۹۰﴾

پس قبوله کړه مونږ دعاء د دغه (زکریا) او ومو باښه دغه (زکریا) ته یحیٰی او صالحه مو کړه ده ته ښځه د ده (د ولادت له پاره له شندوالی څخه وروسته) بیشکه دغه (مذکور انبیاء) وو دوی چه تلوار به ئی کاوه په (کولو د نیکو عملونو او طلب) د خیراتونو او بللو به ئی مونږ له جهته د مینی (د ثواب) او له جهته د ویری (د عذاب) او وو دوی خاص مونږ ته ویریدونکی متواضع

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ د حضرت زکریا علیه السلام شنده ښځه پخپل فضل او کرم سره د ولادت وړ (لائق) او قابله وګرځوله. ځینی متصوفین وائی هر څوک چه پاک الله د خوف یا د توقع له امله (وجی) یاد کړی هغه اصلی محب نه دی له دغه آیت نه د دغی مفکوری غلطی څرګندیږی له انبیاؤ څخه پورته د الله تعالیٰ محب څوک کیدی شي.

وَالَّتِيٓ أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيهَا مِن رُّوحِنَا وَجَعَلْنَٰهَا وَٱبْنَهَآ ءَايَةً لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿٩١﴾

او (یاده کړه ای محمده! قصه د) هغې (جینئ مریمی) چه پاک ئی ساتلی ؤ اندام خپل (له نکاح او له سفاح څخه) پس پوکړ مونږ په (ګریوان د) هغی کښی له روحه خپله او ومو ګرځوله دغه (مریمه) او زوی د دی (عیسیٰ) دلیل (د کامل قدرت خپل) دپاره د خلقو

**تفسیر:** یعنی د حضرت بی بی مریمی رضی الله تعالیٰ عنها په نس کښی چه له نکاح او سفاح او له حلالو او حرامو دواړو طریقو څخه محفوظه وه حضرت عیسیٰ علیه السلام ئی «چه په روح الله» سره ملقب دی پیدا کړو د حضرت عیسیٰ علیٰ نبینا وعلیه الصلوٰة والسلام د آیت او دلیل والی ذکر پخوا له دی نه د آل عمران او د مریم په سورتونو کښی بیان شوی دی.

إِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَٰحِدَةً وَأَنَا۠ رَبُّكُمْ فَٱعْبُدُونِ ﴿٩٢﴾

په تحقیق دا ملت (د توحید ملت او د اسلام دین) ستاسی، ملت یو دی (چه په دغه دین متفق دی ټول انبیاء) او زه رب ستاسی یم پس عبادت کوئ زما (خاص نه د بل).

**تفسير:** یعنی الله تعالیٰ یو دی او ستاسی د دین اصول هم یو دی، گرد (تول) انبیاء علیهم السلام هم د دین په اصولو کښی داسی سره یو دی چه هر هغه تعلیم چه یو ئی ورکوی هغه بل هم د هغه تصدیق او تائید کوی کوم اختلافات چه په فروعو کښی د زمانی او مکان د اختلاف له کبله (وجی) منځ ته راځی هغه عین مصلحت او حکمت دی، مذموم اختلاف هغه دی چه په اصولو کښی وی. نو ځکه لازمه ده چه تول سره په گډه د خدای جل جلاله بندگی وکړو او په کومو اصولو کښی چه تول انبیاء سره متفق دی هغه تول په یو طاقت تینگ ونیسو.

وَتَقَطَّعُوٓا۟ أَمْرَهُم بَيْنَهُمْ

او توتی توتی کړ (دغو پخوانیو امتونو) کار (د دین) خپل په منځونو خپلو کښی،

**تفسیر:** مونږ خو د اصولو په اعتبار تولو ته یو دین ورکړی ؤ خو خلقو پکښی په خپله اختلاف پیدا کړ او هغه دین ئی سره توتی توتی کړ او په خپلو کښی ئی سره نفاق او شقاق پیدا کړ.

كُلٌّ إِلَيْنَا رَٰجِعُونَ ﴿٩٣﴾

تولی فرقی مونږ ته راتلونکی دی (نو جزا به ورکړو دوی ته)

**تفسیر:** یعنی کله چه زمونږ حضور ته راشی نو تول اختلافونه به هلته سره فیصله شی. هر یوه ته به د هغه د عملونو جزاء ورکړی شی چه تفصیل به ئی په راتلونکی آیت کښی راشی.

فَمَن يَعْمَلْ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا كُفْرَانَ لِسَعْيِهِۦ وَإِنَّا لَهُۥ كَٰتِبُونَ ﴿٩٤﴾

پس هر څوک چه عمل وکړی له نیکو (کارونو) څخه حال دا چه دی مؤمن وی نو نشته بی قدری ضیاع د کوشش د ده (او زیار (محنت) ئی نه ضایع کیږی) او بیشکه مونږ دغه (کوښښ د ده) لره لیکونکی یو.

**تفسير:** يعنى د هيچا محنت او زيار (كوشش) نه ضايع كيږى، د نيكى خوږه ميوه به مؤمنانو ته ورسيږى، هيڅ يوه نيكى به هم نه ضايع كيږى. هر وړوكى او لوى عمل مونږ د دوى په عملنامه كښې ليكو چه د قيامت په ورځ كښې به پرانستلى شى.

وَحَرٰمٌ عَلٰى قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَآ اَنَّهُمْ لَا يَرْجِعُوْنَ ﴿۹۵﴾ حَتّٰٓى اِذَا فُتِحَتْ يَاْجُوْجُ وَمَاْجُوْجُ وَهُمْ مِّنْ كُلِّ حَدَبٍ يَّنْسِلُوْنَ ﴿۹۶﴾

او حرام (منع) دى پر (اهل د) هر هغه كلى چه هلاك كړى دى مونږ دوى لره (دا كار) چه بېشكه دوى به نه راځى بيرته (مونږ ته د جزاء يا چه راشى بيرته دنيا ته د توبې او معذرت دپاره). تر هغه پورې كله چه پرانستلى شى يأجوج او مأجوج (او ديوال ئى له مخه لرى شى) او دوى به له هرى لوړى (وچتى) څخه ګړندى راكوزيږى،

**تفسير:** لومړى د نجات موندونكو مؤمنانو ذكر ؤ بالمقابل په دى آيت كښې د هلاك كيدونكو كفارو ذكر دى يعنى هغه كفار چه د هغو دپاره تالا كيدل او هلاك او تباهى مقدره شوى ده نو هغوى له سره له خپل كفر او عصيان څخه لاس نه اخلى او نه توبه وباسى او نه د الله تعالىٰ په طرف رجوع كوى او نه كله هغوى بيرته دنيا ته په دى مقصود راوستل كيدى شى چه دلته د خپلو تيرو تقصيراتو تلافى وكړى نو هغوى څرنګه د خپل خلاصون او نجات توقع كولى شى د هغوى دپاره خو يوازى يو وخت باقى دى كله چه هغوى دوهم ځلى ژوندى او د پاك الله په طرف رجوع كوى او پر خپلو تجاوزاتو او تقصيراتو معترف كيږى او د ندامت او پښيمانى اظهار كوى مګر په هغه وخت كښې به پښيمانى هيڅ په كار ورنشى، دغه د قيامت وخت دى چه د هغه له نژدى مباديو څخه يو د «يأجوج مأجوج» خروج دى چه د عيسىٰ عليه السلام له نزول څخه وروسته به د «ذوالقرنين» سد ماتوى او د يأجوج مأجوج لښكر به لوى هجوم او يرغل (حمله) راوړى دغه خلق به د خپل كثرت او ازدحام له كبله (وجى) په ټولو لوړو (وچتو) او ژورو (خكته) داسى خواره شى چه څوك هرى خوا ته سترګى اړوى نو دوى به وينى، د دوى دغه بې مثله سيلاب او هجوم به په داسى شدت ګړندى راروان وى چه هيڅ يو انسانى قدرت به د دوى مخه نشى نيولى او داسى به ښكارى چه د هرى يوى غونډى او هر يوه غره نه د دوى لښكرى راښوئيږى او رارغړى، د «الكهف» د سورت په آخر كښې مونږ د دى قوم په باب څه ليكلى دى هلته دى وكتلى شى.

وَاقْتَرَبَ الْوَعْدُ الْحَقُّ فَإِذَا هِيَ شَاخِصَةٌ أَبْصَارُ الَّذِينَ كَفَرُوا يَا وَيْلَنَا قَدْ كُنَّا فِي غَفْلَةٍ مِّنْ هَٰذَا بَلْ كُنَّا ظَالِمِينَ ﴿۹۷﴾

او نژدی شوه وعده حقه (قیامت) پس ناڅاپه قصه دا ده چه تیغی (بوتی) به وتلی پاتی وی سترګی د هغو کسانو چه کافران شوی دی، (او وائی به) ای هلاکه زمونږ راحاضر شه دغه دی وخت دی په تحقیق وو مونږ په غفلت کښی له دغی ورځی (له حقی وعدی په دنیا کښی) بلکه وو مونږ ظالمان (په خپل ځان په کفر سره)

**تفسیر:** یعنی کله چه د جزاء او سزاء وعده رانژدی شی په دغه وخت کښی به د منکرانو سترګی د هیبت او ویری له شدته ردی بدی، تیغی او بوتی ختلی وی. او په خپل جهل او غفلت به د افسوس او حسرت نه منګولی مروړی او وائی به افسوس چه مونږ له داسی لوئی ورځی څخه ولی بی خبره او غافل پاتی شوی وو چه په دغسی سختیو او مصیبتونو کښی مبتلا او اخته شوو، کاشکی مونږ په دنیا کښی له دغه آفت څخه د نجات څه فکر کړی وی.

﴿ بَلْ كُنَّا ظَالِمِينَ ﴾ بلکه وو مونږ ظالمان په خپل ځان په کفر سره) یعنی دی ته مونږ څنګه بی خبری ویلی شو څکه چه انبیاؤ علیهم السلام خو په صافو ښکاره ؤ الفاظو سره مونږ ته له دغی ورځی او له دغی لوئی پیښی څخه خبر راکړی ؤ لیکن مونږ په خپله پخپلو ځانونو ظلم او تیری وکړ چه د هغوی خبرو ته مو غوږ کینښود او په خپلو شرارتونو او ګناهونو مو اصرار او مداومت کاوه.

إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ أَنتُمْ لَهَا وَارِدُونَ ﴿۹۸﴾

بیشکه تاسی او هغه (بتان، شیطانان) چه عبادت ئی کوئ تاسی بی له الله څخه خس (خشاک) د دوزخ یئ، تاسی (له معبودانو خپلو سره) دی دوزخ ته ننوتونکی یئ

**تفسیر:** دا خطاب د معظمی مکی مشرکانو ته دی چه بت پرستی به ئی کوله یعنی تاسی تول به له دغو خپلو باطلو معبودانو سره د دوزخ خس او خاشاک شئ! ﴿ وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ ﴾ د البقره (۳) رکوع. د دی معنی داسی نه ده چه بتان به معذب کیږی بلکه غرض ئی دا دی چه په بت پرستانو دی زیات حجت قائم شی لکه چه وروسته وائی ﴿ لَوْ كَانَ هَٰؤُلَاءِ آلِهَةً مَّا وَرَدُوهَا ﴾ او د دوی حسرت به دیر او حماقت به ئی لا واضح او څرګند (ښکاره) شی له

چا څخه چه دوی د خیر هیله (امید) او توقع کوله کله چه دوی خپل ځان نشی خلاصولی نو زمونږ حفاظت به څنګه وکړی

**تنبیه:** له ﴿ وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ ﴾ څخه مراد دلته یوازی اصنام دی ځکه چه خطاب هم دغو د بتانو عابدانو ته دی لیکن که «ما» عامه شی نو (بشرط عدم المانع) قید به معتبر وی. یعنی که په دغو فرضی معبودانو کښی د اور د دخول څخه کوم مانع نه وی نو هغوی به هم له خپلو عابدانو سره یو ځای د دوزخ خس او خاشاک کیږی، مثلاً شیاطین، اصنام باقی حضرت مسیح، حضرت عزیر او ملائکة الله علیهم السلام چه دوی هم د ډیرو خلقو له پلوه معبودان درول شوی دی نو د دغو ذواتو مقبولیت او وجاهت مانع دی چه معاذ الله په دغه عموم کښی شامل کړی شی. له دی کبله (وجی) ئی تصریحاً وویل ﴿ إِنَّ الَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُم مِّنَّا الْحُسْنَىٰ أُولَٰئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُونَ ﴾ (اما ښه او په زړه پوری خبره دا ده چه د «ما» عموم په غیر ذوالعقولو کښی دی).

---

## لَوْ كَانَ هَٰؤُلَاءِ آلِهَةً مَّا وَرَدُوهَا ۖ وَكُلٌّ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٩٩﴾

---

که چیری وی دغه (بتان شیطانان په رښتیا سره) معبودان نو نه به وو داخل شوی په دی دوزخ کښی او دا ټول (بتان او بت پرستان) به په دی دوزخ کښی تل پراته وی

---

**تفسیر:** یعنی دغه ټول عابدان او باطل معبودان به تل تر تله په دوزخ کښی پراته وی.

---

## لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَهُمْ فِيهَا لَا يَسْمَعُونَ ﴿١٠٠﴾

---

وی به دغو (عابدانو) ته په دغه (دوزخ) کښی چغی سوری او دوی به په دی دوزخ کښی نه اوری هیڅ (شی د دوزخ د شور ماشور له سببه).

---

**تفسیر:** یعنی د هول او هیبت له شدت او د عذاب له سخت تکلیف او د خپلو چغو او کریکو له شورماشور څخه به هیڅ شی نه اوری. له ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی چه یو داسی وخت به راشی چه هر یو دوزخی به د اوسپنی په یوه صندوق کښی بند کړی شی او له پاسه به پری میخونه ټک وهل شی او د دوزخ په اعماقو (ژورو) کښی به واچولی شی، ښائی چه په دی وخت کښی دغه هیڅ نه اوریدل د دغه دوزخی حال وی د دی آیت د نزول په اثر مشرکان سخت خفه شول نو اعتراض ئی وکړ چه آیا عزیر او مسیح او ملائک چه ځینی ئی خپل معبودان دروی هم په دوزخ کښی لویږی؟ نو دغه مبارک آیت نازل شو.

إِنَّ الَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُم مِّنَّا الْحُسْنَىٰ أُولَٰئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُونَ ﴿١٠١﴾

بیشکه هغه کسان چه ړومبی شوی ده دوی ته له (جانبه د) مونږه نیکه مرتبه (سعادت، نجات) دغه کسان به له دی دوزخ څخه لری کړی شوی وی.

**تفسیر:** یعنی یو ځل به د صراط له پل څخه تیریږی، بیا به تل له دوزخ څخه لری اوسیږی او د تیریدلو په وخت کښی به هم، د دوزخ له تکلیف، الم او درد څخه بیخی خلاص وی.

لَا يَسْمَعُونَ حَسِيسَهَا ۖ وَهُمْ فِي مَا اشْتَهَتْ أَنفُسُهُمْ خَالِدُونَ ﴿١٠٢﴾

نه به اوری دغه (جنتیان) غږ د (لمبو د) دوزخ او دوی په هغو نعمتونو کښی چه غواړی ئی نفسونه د دوی تل به وی.

**تفسیر:** یعنی جنتیان به له دوزخ څخه دومره لری وی چه د دوزخ د اور ډیر یو نری غږ هم د دوی غوږو ته نه رسیږی او په نهایت عیش او آرامی سره به په جنت کښی مزی کوی او له هر راز (قسم) نعمتونو څخه به دوی خوند اخلی.

لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْأَكْبَرُ وَتَتَلَقَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ هَٰذَا يَوْمُكُمُ الَّذِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ ﴿١٠٣﴾

نه به خفه (غمجن) کوی دوی (جنتیان) ویره ډیره لویه (هم لکه آخره نفخه او یا د دوزخ خوا ته روانیدل) او ملاقات به کوی له دوی سره پرښتی (استقبالاً، او وائی به) دا ورځ د (ثواب د) ستاسی ده هغه چه وئ تاسی چه وعده درسره کړی شوی وه (په دنیا کښی).

**تفسیر:** یعنی په هغه ورځ چه ټول مخلوق په سخته ویره او هیبت کښی وی الله تعالیٰ به ټول جنتیان له غم او خفګان څخه محفوظ وساتی یعنی له قبرونو څخه د نیکانو د راپاڅیدلو یا جنت ته د ننوتلو په وخت کښی به پرښتی د هغوی استقبال کوی او ورته به وائی د هغه دائمی مسرت او راحت وعده چه له تاسی سره کړی شوی وه نن د هغی د پوره کیدلو وخت راغلی دی.

يَوْمَ نَطْوِي السَّمَآءَ كَطَيِّ السِّجِلِّ لِلْكُتُبِ ۚ كَمَا بَدَأْنَآ أَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيدُهُ ۚ وَعْدًا عَلَيْنَآ ۚ إِنَّا كُنَّا فَٰعِلِينَ ﴿۱۰۴﴾

(یاده کړه ای محمده!) هغه ورځ چه راونغاړو آسمان لکه نغښتل د سند، طومار دپاره د لیکل شویو کاغذونو لکه چه ابتداء کړی ؤ مونږ اول پیدایښت بیا اعاده کوو ئی وعده ده په مونږ، بیشکه مونږ یو کوونکی (د هغه موعود کار)

**تفسیر:** ځینو مفسرینو د دی آیت ترجمه داسی کړی ده او یاده کړه هغه ورځ چه راونغاړو، مونږ له بیخه دا آسمان لکه نغښتل د صحیفی دپاره د حفظ د هغو مکتوباتو چه په دی کښی دی او د اهله که مصدر مضاف وی مفعول ته یا لکه تاوول د پرښتی یا کاتب د محمد صلی الله علیه وسلم د مکتوباتو که مضاف وی فاعل ته لکه چه پیل (شروع) کړی وه مونږ د اول پیدا کولو د دی عالم له عدم محض څخه چه ډیر آسان ؤ اعاده به ئی کړو بیا او دا مری به تول ژوندی کړو، دا وعده کړی ده مونږ وعده لازمه په خپل ځان نو بیشکه مونږ کوونکی یو د هغه کار چه وعده مو کړی ده یعنی کله چه قیامت راشی نو آسمانونه به داسی ونغاړل شی لکه چه د اسنادو او وثائقو لیکلی شوی کاغذونه سره نغښتلی کیږی ﴿وَالسَّمَٰوَٰتُ مَطْوِيَّٰتٌۢ بِيَمِينِهِۦ﴾ په ځینو روایتونو کښی د رسول الله د یوه کاتب نوم (سجل) ښوولی دی، دغه روایت ته د حدیثو د حفاظو یو جماعت ضعیف بلکه موضوع ویلی دی **(کما صرح ابن کثیر فلا یعتبر بتخریج ابی داود والنسائی فی سننهما)**.

﴿كَمَا بَدَأْنَآ أَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيدُهُ﴾ لکه چه ابتداء کړی ؤ مونږ اول پیدایښت بیا ئی اعاده کوو.. الخ) یعنی په هم هغه سهولت او آسانی سره چه اول ځلی ئی دنیا پیدا کړی وه هم هغسی ئی دوهم ځلی هم پیدا کوی. دغه وعده حتمی ده چه هرومرو (خامخا) علی الیقین پوره کیږی.

وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ مِنۢ بَعْدِ الذِّكْرِ أَنَّ الْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصَّٰلِحُونَ ﴿۱۰۵﴾

او خامخا په تحقیق لیکلی دی مونږ په زبور کښی وروسته له نصیحت څخه دا چه بیشکه دغه ځمکه مالکان کیږی به ئی (بالاخر هغه) بندګان زما چه نیکان دی (او په میراث به ئی وړی).

**تفسیر:** یعنی له کاملو وفادارو بندګانو سره الله تعالیٰ وعده کړی ده چه د هغوی په برخه کښې د دنیا او آخرت بری او کامیابی ده او دوی د دی دنیا او د جنت د مځکی وارثان ګرځول کیږی لکه چه د (الاعراف) په (۱۵) رکوع کښې ئې ویلی دی ﴿ اِنَّ الْاَرْضَ لِلّٰهِ یُوْرِثُهَا مَنْ یَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِیْنَ ﴾ او د المؤمن په ٦ رکوع کښې راغلی دی ﴿ اِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا وَیَوْمَ یَقُوْمُ الْاَشْهَادُ ﴾ او د النور په (۷) رکوع کښې ویلی دی ﴿ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مِنْکُمْ وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَیَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِی الْاَرْضِ کَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَیُمَکِّنَنَّ لَهُمْ دِیْنَهُمُ الَّذِی ارْتَضٰی لَهُمْ ﴾ الآیة -
دا داسی حتمی او قطعی وعده ده چه الله تعالیٰ د هغی خبر په خپلو شرعیه او قدریه ؤ کتابونو کښې ورکړی ده (په لوح محفوظ) او (ام الکتاب) کښې ئې هم دغه وعده درج کړی ده او د انبیاؤ علیهم السلام په ژبو ئې پرله پسی مکرراً د هغه اعلان کړی دی د داؤد علیه السلام په کتاب (زبور) په (۳۷ او (۲۹) کښې راغلی دی چه (صادقان به د ځمکی وارثان وی) لکه چه د دی محمدی امت کامل وفادار او صادق بندګان تر یوی اوږدی مودی پوری د ځمکی وارثان وو، دغو صالحانو، صادقانو په شرق او غرب کښې آسمانی سلطنت جاری او قایم کړ، هر چیری ئې د عدل او انصاف بیرغونه ودرول، د حق دین غږ ئې په ټوله دنیا کښې پورته کړ او د نبی کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم دغه پخوا ویل (پیشګوئی) د دوی په لاسونو پوره شول **«ان الله تعالیٰ زوی الارض فرأیت مشارقها ومغاربها وان امتی سیبلغ ملکها مازوی لی منها»** او هم دغه قسم هغه بل پخوا ویل د امام مهدی او حضرت مسیح علیه السلام په زمانه کښې به خامخا پوره کیدونکی وی.

---

اِنَّ فِیْ هٰذَا لَبَلٰغًا لِّقَوْمٍ عٰبِدِیْنَ ﴿۱۰۶﴾

---

بیشکه په دی (تیر بیان کښې) خامخا (سبب د) وصول د مطلب دی دپاره د قوم عبادت کوونکو

---

**تفسیر:** یعنی د دی قسم بشارتونو له اوریدلو شخه د یوه خدای جل جلاله عبادت کوونکی خپل مطلب ته رسیږی. یا دغه لوی قرآن چه پر داسی عظیمو بشارتونو او هدایتونو مشتمل دی د عبادت کوونکو دپاره پوره ګټه (فائده) او پوره کامیابی ده یا په تحقیق سره په دی قرآن کښې خامخا کفایت دی په دخول د جنت کښې دپاره د هغه قوم چه عمل کوونکی دی په دی سره.

---

وَمَآ اَرْسَلْنٰکَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِیْنَ ﴿۱۰۷﴾

او نه ئی لیږلی مونږ ته (ای محمده!) مګر رحمت دپاره د (ټولو) عالمیانو

**تفسیر:** یعنی ته خو د ټول جهان دپاره د رحمت په حیث مبعوث شوی ئی که کوم بدبخت پخپله له دی عمومی رحمت څخه ګټه (فائده) نه اخلی نو دا خو د هغه خپل قصور دی. د لمر د رڼا (رڼرا) او تودوخی فیض هر طرف ته رسیږی خو که کوم سری پخپل ځان د رڼا (رڼرا) ټول ورونه، کړکی او سوری بند کړی نو دا به د ده خپله ناپوهی او لیونتوب وی. د لمر په عمومی فیض کښی هیڅ شک او شبه نشته او دلته د (رحمة للعٰلمین) د فیض حلقه خو دومره ارته او لویه ده چه که کوم بی‌برخی د دی رحمت نه ګټه (فائده) اخیستل هم نه غواړی نو هغه ته هم په یو نه یو ډول (طریقه) بی اختیاره د رحمت برخه وررسیږی لکه چه په دنیا کښی د نبوت د علومو او د تهذیب او د انسانیت د اصولو د عمومی اشاعت او خوریدلو څخه هر مسلمان او کافر له خپل خپل ذوق سره موافق ګټه (فائده) اخلی او هم الله تعالیٰ وعده کړی ده چه د پخوانیو امتونو په خلاف به د دی امت کفار هم له عمومی او بیخ ویستونکو عذابونو څخه محفوظ وساتی. زه خو دا وایم چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د عامو اخلاقو څخه برسیره له هغو کافرانو سره چه ده جهاد کاؤ هغه هم د ټول عالم دپاره سراسر رحمت ؤ ځکه چه د هغه په ذریعه د هغه لوی رحمت حفاظت کیده چه دی ئی حامل ؤ او یوازی د هم هغه مقصود دپاره مبعوث شوی ؤ او ډیرو هغو ړندو ته چه د خپلو سترګو له علاج څخه تښتیدل په دغه سلسله کښی خامخا د ایمان رڼا (رڼرا) رسیده. په یوه حدیث کښی راغلی دی **(والذی نفسی بیده لاقتلنهم و لاصلبنهم و لاهدینهم وهم کارهون انی رحمة بعثنی الله ولا یتوفانی حتی یظهر الله دینه)** «ابن کثیر» له دغو الفاظو څخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د «رحمة للعٰلمین» کیدلو مطلب خورا (ډیر) ښه ښکارندیدی شی.

قُلْ إِنَّمَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ ۖ فَهَلْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿١٠٨﴾

ووایه (ای محمده! کفارو ته) بیشکه خبره هم دا ده چه وحی کولی شی ماته داسی بیشکه هم دا خبره ده چه الله ستاسی الله یو دی آیا پس یئ تاسی اسلام راوړونکی (الله ته غاړه ایښودونکی بلکه مسلمانان شئ!)

**تفسیر:** دا د رسالت سره د توحید بیان شو یعنی له هغه لوی رحمت سره چه ته راغلی ئی د هغه لب لباب کامل توحید دی او دا داسی صاف او واضح مضمون دی چه د هغه په قبول کښی انسان ته نه ښائی چه لږ شان هم وړاندی او وروسته شی. پس آیا تاسی دغه حکم منئ او د حق په مقابل کښی د غاړی ایښوولو دپاره تیار یئ! که تیار یئ فبها ونعمت که نه ما خپل تبلیغ وکړو

خپله غاړه مې خلاصه کړه تاسې پخپله خپل انجام او خاتمې ته فکر وکړئ!.

فَاِنۡ تَوَلَّوۡا فَقُلۡ اٰذَنۡتُكُمۡ عَلٰى سَوَآءٍ ؕ وَاِنۡ اَدۡرِىۡۤ اَقَرِيۡبٌ اَمۡ بَعِيۡدٌ مَّا تُوۡعَدُوۡنَ ﴿۱۰۹﴾

پس که وګرځیدل دوی (له ایمان څخه) نو ووایه (ای محمده!) چه خبروم زه تاسې (په هغه شي چه زه پرې مامور یم) په برابرۍ سره، او نه پوهیږم زه چه آیا نژدې دی که لرې دی هغه څه چه تاسې سره وعده شوې ده (چه دنیوی عذاب یا اخروی عقاب دی).

**تفسیر:** که د حجت د دومره اتمام نه وروسته هم تاسې حق نه منئ! او د توحید په طرف نه راځئ! نو ما تاسې ته خبر درکړی دی چه اوس زه له تاسې څخه بیزار یم، تاسې له مانه بیل او زه له تاسې څخه بیل یم، ستاسې عمل له تاسې سره مل او زما عمل له ماسره مل دی او هر یو به د خپل خپل عمل نتیجه وګوری. حضرت شاه صاحب لیکی دواړه طرفه برابر یعنی اوس تاسې دواړه خبرې کولې شئ (چه قبول ئې کړئ یا ئې رد کړئ) په یوه طرف تاسې باندې زور نه دی اچول شوی ځینو مفسرینو د دې آیت داسې ترجمه کړې ده پس ووایه دوی ته چه خبر مې کړئ په دې په داسې حال کښې چه برابر یو سره زه او تاسې په دې پوهه کښې چه مې نه دی پټ کړی هیڅ شی له تاسې نه یا غږ مې درباندې وکړ د جنګ چه ورته تیار شئ!
﴿ وَاِنۡ اَدۡرِىۡ ﴾ الآیة ـ نه پوهیږم زه چه آیا نژدې دی که لرې دی هغه څه چه تاسې سره ئې وعده کیږی) یعنی ستاسې له نه منلو څخه د عذاب د وقوع کومه وعده چه شوې ده هغه هرومرو (خامخا) کیدونکې ده لیکن زه نه یم خبر چه هغه به ژر واقع شي! یا په ځنډ (ایسارتیا)!

اِنَّهٗ يَعۡلَمُ الۡجَـهۡرَ مِنَ الۡقَوۡلِ وَيَعۡلَمُ مَا تَكۡتُمُوۡنَ ﴿۱۱۰﴾

بیشکه چه دغه (الله) ته معلوم دی ښکاره له خبرو (بلکه له کارونو هم) او معلوم دی (الله ته) هغه چه پټوئ ئې تاسې (له حسد کینې او نورو هم)

**تفسیر:** یعنی یوازې الله تعالیٰ په هره یوه پټه او ښکاره خبره پوهیږی او په دې هم پوهیږی چه په کومه ګناه څه سزا او په کوم وخت کښې ورکړې شي.

وَإِنْ أَدْرِي لَعَلَّهُ فِتْنَةٌ لَّكُمْ وَمَتَاعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴿١١١﴾

او نه پوهیږم زه ښائی چه دغه تاخیر د عذاب ازموینه وی تاسی لره او نفع وی تر یوه وخته (د مرګه) پوری.

**تفسیر:** یعنی د عذاب په تاخیر کښی امکان لری چه ستاسی امتحان او ازموینه وی چه ګوندی په دی موده کښی څه فکر او تامل وکړئ او له خپلو بدو کارونو او شرارتونو څخه لاس واخلئ! یا تش مهلت مقصد وی چه تر یوه مودی پوری په دنیوی عیش او عشرت کښی مشغول اوسئ او د خپل شقاوت پیمانه مو ښه ډکه کړئ!

قُلْ رَبِّ احْكُم بِالْحَقِّ ۗ

وویل (رسول) ای ربه زما حکم وکړه په منځ زمونږ کښی په حقه سره،

**تفسیر:** یعنی لکه څنګه چه د هری معاملی فیصله له انصاف سره سم ستا شان دی نو له هغی سره سم زما او زما د قوم په منځ کښی ژر تر ژره فیصله وکړه.

وَرَبُّنَا الرَّحْمَٰنُ الْمُسْتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ ﴿١١٢﴾ ع

او رب زمونږ ډیر مهربان دی مرسته (مدد) تری غوښتل شوی ده په هغو خبرو چه بیانوئ ئی تاسی (او وایئ چه ولی نه معذب کیږو او نور).

**تفسیر:** یعنی یوازی له هغه څخنی مونږ خپله فیصله غواړو او د کفارو د خرافاتو په مقابل کښی له ده څخه مرسته (مدد) غواړو او په هم دی شان دعاګانی نورو انبیاؤ علیهم السلام هم کولی لکه چه د جزء ۹ (الاعراف) په ۸۹ آیت (۱۱) رکوع کښی راغلی دی ﴿ رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَأَنتَ خَيْرُ الْفَاتِحِينَ ﴾ ځکه چه دوی په خپل حقانیت او صداقت او د الله تعالیٰ په عدل او انصاف باندی پوره باور او اعتماد درلود (لرلو).

تمت سورة الانبياء ولله الحمد والمنة

سورة الحج مدنية الا الايات (٥٢ و ٥٣ و ٥٤ فبين مكة والمدينة وهی (٧٨) آية و (١٠) رکوعات رقمها (٢٢) تسلسلها حسب النزول (١٠٣) نزلت بعد سورة النور.

د (الحج) سورت مدنی دی پرته (علاوه) له ٥٢ نه تر ٥٤ آیتونو پوری چه د مکی او مدینی په منځ کښی نازل شوی دی اته اویا آیتونه او لس رکوع لری په تلاوت کښی (٢٢) او په نزول کښی (١٠٣) سورت دی د النور له سورت نه وروسته نازل شوی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی.

يَاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمْ ۚ اِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيْمٌ ①
يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّآ اَرْضَعَتْ
وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى النَّاسَ سُكٰرٰى
وَمَا هُمْ بِسُكٰرٰى وَلٰكِنَّ عَذَابَ اللّٰهِ شَدِيْدٌ ②

ای خلقو ځان وساتئ (وویریږئ) تاسی له (عذابه د) رب خپل، بیشکه چه زلزله د قیامت (یو) شی دی ډیر لوی. په هغه ورځ چه ووینئ تاسی هغه چه غافله به شی هره تی ورکوونکی (د دی ورځی له هیبت څخه) له هغه وړوکی چه تی ورکوی هغه ته او وبه غورځوی هر میرمن حامله (امیدواره) حمل (بچی) خپل او وبه وینی ته خلق بی هوشه (له ډیر هیبت نه) حال دا چه نه به وی په واقع سره دوی بی هوشه ولیکن عذاب د الله دی ډیر سخت (نو د قیامت د ورځی له ویری نه به بی هوشه وی).

**تفسیر:** د قیامت عظیم الشانی زلزلی دوه دی یوه عین د قیامت د قیام په وخت کښی یا له دوهمی نفخی څخه وروسته، بله د قیامت د قیام څخه څه وړاندی چه د مغرب له خوا د لمر له ختلو څخه پخوا واقع کیږی او د قیامت له علاماتو څخه ده. که دلته تری دوهمه زلزله مراده وی نو آیت به په خپله ظاهری معنی پاتی شی. او که اوله مراده شی نو دواړه احتماله پکښی شته.

لومړی دا چه حقیقتاً زلزله وشی او تی ورکوونکی (لنگی) یا بلاربی ښځی به خپل هم هغه هیئت محشوری شی یا به له زلزلی څخه د هغه ځای احوال او شدائد مراد وی او ﴿ يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ ﴾ الآية ـ دی به تمثیل حمل کړی شی یعنی دومره سختی، هیبت او ویره به وی که شودی ورکوونکی (لنگی) ښځی موجودی وی نو له ډیری ویری او هیبت نه به خپل تی رودونکی ماشومان هیر کړی، یا به د بلاربو ښځو بچیان ولویږی. په دغه وخت کښی به خلق دومره بی سده او مدهوشه وی چه لیدونکی به وربانﺩی داسی گمان کوی چه د شرابو په نشو سره بی سده او مخمور دی حال دا چه په هغه ځای کښی به نشه چیری وی، د الله تعالیٰ د عذاب تصور او د اهوالو او شدائدو سختی به هوش، حواس او سد له مینځه یوسی.

**تنبیه:** که دغه ویره تولو ته عامه وی نو به ﴿ لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْأَكْبَرُ ﴾ کښی به نفی د اکثرو احوالو په اعتبار او دلته به اثبات د لږو ساعتونو په اعتبار واخیستل شی او که دا آیت د اکثرو په حق کښی وی او تولو ته شامل نه وی نو بیا له سره هیڅ اشکال نشته.

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُجَادِلُ فِي اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّبِعُ كُلَّ شَيْطَانٍ مَرِيدٍ ۝٣

او ځینی له خلقو څخه هغه دی چه جگړه کوی په (حق او خبرو د) الله کښی بی له پوهی (له خپلی ناپوهی) او متابعت کوی د هر شیطان سرکش.

**تفسیر:** یعنی دا خلق په هغو خبرو کښی چه الله تعالیٰ ئی خبر راکوی ولی جگړی کوی او کاږه بحثونه پکښی کوی او له خپله جهله او بی‌خبرئ عجیبی احمقانه شبهی خوروی لکه چه په قیامت، بعث بعد الموت، جزاء، سزاء او نورو د دوی لوی اعتراض دا دی کله چه انسان ومری او بیخی وروست شی او هډوکی ئی ذری ذری شی نو عقل ته به څنگه پریوځی چه دی به بیا ژوندی شی او خپل هم هغه ړومبنی اصلی حالت ته به بیرته وگرځی.

﴿ وَيَتَّبِعُ كُلَّ شَيْطَانٍ مَرِيدٍ ﴾ او متابعت کوی د هر شیطان سرکش) یعنی هر جنی او انسی شیطان چه دی خپل ځان ته راوبولی سم د لاسه هغه پسی روانیږی گواکی دی د گمراه کیدلو داسی کامل استعداد لری چه هر یو شیطان ئی راوبولی دی ورته لبیک وائی.

كُتِبَ عَلَيْهِ أَنَّهُ مَنْ تَوَلَّاهُ فَأَنَّهُ يُضِلُّهُ وَيَهْدِيهِ إِلَىٰ عَذَابِ السَّعِيرِ ۝٤

لیکل (حکم) شوی دی په (حق او قسمت د) دغه (شیطان په ازل کښی دا) چه بیشکه شان دا دی چه هر څوک چه دوستی او متابعت وکړی د شیطان پس بیشکه (دا شیطان) گمراه کوی دغه (تابع خپل) او لیاره ښیی ده ته (بیایی ئی) عذاب د دوزخ ته.

**تفسیر:** یعني د مرید شیطان په متعلق دا خبره غوته او فیصله شوی ده څوک چه د ده ملګرتیا او متابعت کوی نو شیطان خپل دغه ملګری او تابع هم له خپل ځان سره ډوبوی او داسی ئی ګمراه کوی چه بی د دوزخ له غورځولو ئی نه پرېږدی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمْ فِى رَيْبٍ مِّنَ ٱلْبَعْثِ فَإِنَّا خَلَقْنَٰكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِن مُّضْغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ لِّنُبَيِّنَ لَكُمْ ۚ وَنُقِرُّ فِى ٱلْأَرْحَامِ مَا نَشَآءُ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوٓا۟ أَشُدَّكُمْ ۖ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرْذَلِ ٱلْعُمُرِ لِكَيْلَا يَعْلَمَ مِنۢ بَعْدِ عِلْمٍ شَيْـًٔا ۚ وَتَرَى ٱلْأَرْضَ هَامِدَةً فَإِذَآ أَنزَلْنَا عَلَيْهَا ٱلْمَآءَ ٱهْتَزَّتْ وَرَبَتْ وَأَنۢبَتَتْ مِن كُلِّ زَوْجٍۭ بَهِيجٍ ﴿٥﴾

ای (له بعث څخه منکرو) خلقو! که یئ تاسی په شک کښې له بعث څخه (چه خلق بیا ژوندی پورته کیږی له قبرونو څخه اول خپل حال ته وګورئ!) پس بیشکه چه مونږ پیدا کړی دی مونږ (نیکه د) تاسی له خاوری بیا (مو پیدا کړه اولاده د آدم) له یوه څاڅکی (منی) څخه بیا له (یوی توتی) کلکی پرندی وینی بیا له یوی بوتی غوښی تام الخلقة (چه پوره شکل ئی پیدا کړی شوی وی) او ناقص الخلقة (چه پوره شکل ئی پیدا کړی شوی نه وی) دپاره د دی چه بیان کړو مونږ تاسی ته (خپل کامل حکمت او قدرت) او ثابت پرېږدو مونږ په ارحامو کښې هغه شی چه اراده وکړو (د هغه د اثبات) تر نیتی معلومی پوری (چه د زېږېدلو وخت دی) بیا راوباسو مونږ تاسی (له ګیډو د میندو ستاسی حال دا چه) طفل (وئ) بیا (پالو تاسی) تر هغه پوری چه ورسیږئ تاسی کمال او قوت خپل ته (جسماً او عقلاً) او ځینی له تاسی څخه هغه دی چه وفات کولی شی (له رشد او قوت څخه وروسته یا پخوا) او

ځینی له تاسی څخه هغه دی چه رد کاوه شی (یعنی ژوندی وی) تر ناکاره عمره پوری دپاره د دی چه نه پوهیږی وروسته له پوهی په هیڅ شی (د خپلو تولو قواؤ د بیکاره کیدلو له کبله) او وینی به ته ځمکه وچه شاړه نو هر کله چه نازلی کړو مونږ په دغی (وچی مړی شاړی ځمکی د آسمان له خوا) اوبه نو وخوځیږی او ډډه شی او زرغونه کړی له هر قسم نباتاتو څخه ښائسته تاند، تنکی تیغ (د وښو په شنه کیدلو سره).

**تفسیر:** یعنی که کفار او د بعث بعد الموت منکرین په دغه شک او شبهه کښی لویدلی وی چه له ذری ذری کیدلو څخه وروسته به بیا څرنګه ژوندی راپورته شی؟ نو خپل ړومبنی پیدایښت ته دی غور او فکر وکړی چه په ابتداء کښی څرنګه پیدا شوی دی؟ یعنی اول ستاسی پلار آدم علیه السلام می له خاوری څخه پیدا کړ، بیا مو تاسی د منی له څاڅکی څخه پیدا کړئ! یا دا مطلب چه له خاوری څخه می خواړه پیدا کړل چه هغه څو منازل او مدارج تیروی، بیا نطفه کیږی بیا هم د نطفی د څو منازلو او مدارجو له تیرولو څخه وروسته ستاسی تشکیل او تخلیق مینځ ته راځی، له نطفی څخه پرنده وینه او له وینی څخه د غوښی توته جوړیږی او بیا د غوښی په دغی توټی باندی داسی وخت راځی چه د بنی آدمو پوره شکل، نقشه لاسونه، پښی، سترګی، پوزه او نور اندامونه جوړیږی او یو وخت داسی وی چه تر دغه وخته پوری هیڅ شی پکښی نه وی جوړ شوی یا ئی دا مطلب چه د ځینو پیدایښت مکمل کیږی او د ځینو هم هغسی ناقص پاتی کیږی او په هم هغه ناقص صورت لوئیږی. یا داسی دی وویل شی چه ځینی بی عیبه او ځینی عیبجن وی.

﴿ لِّنُبَيِّنَ لَكُمْ ﴾ له پاره د دی چه بیان کړو مونږ تاسی ته خپل حکمت او قدرت) چه په خپله ستاسی اصل څه ؤ؟ او د څو ورځو د تیریدلو څخه وروسته څرنګه په انسانی صورت سره جوړ او مکمل جوړ شوئ، که په دی وپوهیدئ نو د نورو ډیرو حقایقو انکشاف هم کیدی شی او د بعث بعد الموت په امکان باندی هم پوهیدلی شئ!

﴿ وَنُقِرُّ فِي الْأَرْحَامِ ﴾ الآية ـ او ثابت پریږدو مونږ په ارحامو کښی هغه شی چه اراده وکړو د هغه د اثبات) یعنی څومره موده چه د هر چا له پاره د مور په رحم کښی اوسیدل او تقرر لازم وی هغومره ئی هلته ساتو، لږ تر لږه (٦) میاشتی او زیات له زیاته دوه کاله یا څلور کاله علی اختلاف الاقوال.

﴿ ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ﴾ الآية ـ بیا راوباسو تاسی له ګیډو د میندو ستاسی حال دا چه طفل وئ بیا پالو تاسی) یعنی لکه څرنګه چه مو په ګیډه کښی ډیر زیات مدارج طی کړی دی هم داسی د زیږیدلو څخه وروسته به هم په تدریج سره ډیر مدارج طی کوئ! یوه د طفولیت زمانه ده چه انسان پکښی بالکل کمزوری او ناتوان وی او د ده ګردی (تولی) قواوی مخفی او پټی وی، بیا داسی یو وخت پری راځی چه ګردی (تولی) پټی قواوی ئی ظاهریږی، د جسمانی حیثیته هر شی

د خپلې ځوانۍ کمال ته رسیږي بیا خو ځینې په ځلمیتوب کښې مړ او ځینې خو هغه عمر ته رسیږي چه په هغه کښې انساني ګردي (تولي) قواوي، حواس او اعضاء له زور او قوت څخه لویږي او له پوهې او عقل او د کار کولو له قدرت څخه وروسته له کاره لویږي او بیخي بی‌کاره او خراب، ګرځي، یاد شوي شیان ئې له یاده وځي او له زده کړو شیانو څخه هم په هیڅ شي نه پوهیږي او تري هیریږي. ګواکې بیرته وړوکتوب ته ګرځي.

﴿وَتَرَى الْأَرْضَ هَامِدَةً﴾ الآیة - او وینې به ته ځمکه وچه، شاړه نو هر کله چه نازلې کړو مونږ پر دغې وچې مړې، شاړې ځمکې د آسمان له خوا اوبه نو وخوځیږي او دده شي په شنو کیدو د ښو سره، الخ) یعنې ځمکه مړه او وچه پرته وه هم دا چه د رحمت اوبه پرې ولویدې نوې ژوند ئې وموند او تروتازه او تانده شوه او تکه شنه او سمسوره شوه او راز راز (قسم قسم) ښکلي او د ننداری وړ (لائق) منظرې او مظاهر پکښې ښکاره شول او قسم قسم فرحت بښوونکي او نشاط زیاتوونکي شینکي، بوټي پکښې د قدرت په قوت شنه شول چه لیدونکي پرې خوشالیږي.

ذَٰلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ هُوَ الْحَقُّ وَأَنَّهُ يُحْيِي الْمَوْتَىٰ وَأَنَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ⑥
وَأَنَّ السَّاعَةَ آتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيهَا وَأَنَّ اللَّهَ يَبْعَثُ مَن فِي الْقُبُورِ ⑦

دغه (راز راز (قسم قسم) پیدا کول او ژوندي کول) په سبب د دې دی چه بیشکه الله هم دی دی حق (ثابت موجود دائم) او بیشکه دی ژوندي کوي مړي (د نطفې او د ځمکې د ژوندي کولو په شان) او بیشکه الله په هر شي (چه اراده وکړي) ښه قادر دی (چه ځینې له هغو څخه دغه راز راز (قسم قسم) پیدا کول او ژوندي کول دي) او بیشکه چه قیامت راتلونکې دی چه نشته هیڅ شک په (راتلو) د دغه (قیامت) کښې او بیشکه چه الله بیا ژوندي راپاڅوي هر هغه چه په قبرونو کښې دي (د حساب او جزاء دپاره)

**تفسیر:** د انسان له پیدایښت او د کښت (فصل) د مثالونو څخه چه پورته ذکر شول څو خبرې ثابتیږي،

(١) دا چه یقیناً او په تحقیق الله تعالیٰ موجود دی که نه داسې منظم، محکم او حکیمانه صنائع به له کومه څرګند (ښکاره) شوي وي او د چا له لاسه به دغسې چارې انجام شوي وي؟

(٢) دا چه الله تعالیٰ مړو او بی‌سا شیانو ته ژوند ورکوي او سا پکښې اچوي لکه چه له یو موتي خاورې یا له یو څاڅکي اوبو څخه انسان جوړول او په مړه وچه ویجاړه ځمکه کښې نباتي روح اچول په دې شاهد دي چه پاک الله ته بیا پیدا کول هیڅ مشکل کار نه دی.

(٣) دا چه الله تعالیٰ پر هر شي باندې قادر دی او که هر شي د ده تر قدرت لاندې نه وي نو له

سره به ئې داسې كارونه نشو كولى.
(٤) قيامت ضرور واقع كيدونكى دى او له دى ژوند څخه وروسته هرومرو (خامخا) بل ژوند راتلونكى دى ځكه چه دومره لوى لوى انتظامونه هم داسى لغو، او بيكاره نشى پاتى كيدى كوم مطلق حكيم او قادر علىالاطلاق چه پخپل بالغه حكمت او كامله قدرت سره انسان په داسى عجيب او غريب صفت سره پيدا كرى دى نو آيا څه خيال كيدى شى چه هغه لوى ذات به د دوى ژوندون هم داسى بى فائدى او بيكاره جوړ كرى وى؟ له سره داسى نه ده! يقيناً د انسان دغه محدود ژوندون چه په هغه كښې سعادت، شقاوت، نيكى، بدى، رنځ، راحت سره مخلوط او ګډ دى او د امتحان او انتقام صورتونه يكښې يو له بل څخه په مكمل او ښكاره ډول (طريقه) سره نه متميز كيږى د دى خبرى تقاضا دا ده چه كوم بل ژوندون دى خامخا موجود وى چه هلته سعيد او شقى، مجرم او وفادار او نور په صاف ډول (طريقه) سره بيل او جدا شى او هر يو هم هغه مقام ته ورساوه شى چه د هغه ځاى د رسيدلو دپاره پيدا شوى او د هغه قوت او استعداد په خپل وجود كښې لرى. د مادى حيثيت له مخى د منى په هغو اجزاؤ كښې چه د منى جوړيدلو استعداد ؤ له هغو څخه (نطفه) جوړه شوه هم داسى د نطفى پټ قوتونه په «علقه» (پرنده) د «علقه» په «مضغه» (بوټى) د (مضغه) په طفل كښې راغلل او د ځلميتوب په وخت كښې پوره څرګند (ښكاره) شول. يا د ځمكى پټ قوتونه د باران د څاڅكو په لويدلو ښكاره شول هم داسى ضرورى ده چه په انسان كښې د سعادت او شقاوت كوم روحانى قوتونه چه امانت ايښودل شوى دى يا په بدى او نيكى كښې د ترقى او ودى كوم قوى استعداد چه ايښودل شوى دى هغه خپل پوره شباب او ځوانى ته ورسيږى او په خورا (ډير) كاملو شكلونو او صورتونو سره ظاهر شى نو د هم دى شى نوم **(بعث بعد الموت)** دى چه د دنيا د موجوده ژوندون د دورى له ختميدلو څخه به وروسته واقع شى.

---

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّلَا هُدًى وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيْرٍ ﴿٨﴾ ثَانِيَ
عِطْفِهٖ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ لَهٗ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَّنُذِيْقُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ
عَذَابَ الْحَرِيْقِ ﴿٩﴾ ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ يَدٰكَ وَاَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿١٠﴾

---

او ځينى له خلقو چه جګړه كوى په (حق يا قدر يا كلام د) الله كښې بى له پوهى او بى له دليله، ليارى سمى او بى له كتابه روښانه په داسى حال چه اړوى څنګ خپل (له ايمانه په تكبر او اعراض سره او جګړى كوى) چه ګمراه

کړي خلق له لیارې د الله، شته ده لره په دنیا کښې رسوائي او وبه څکوو مونږ ده لره په ورځ د قیامت کښې عذاب (د اور) سوځوونکې. (او وبه وایو ده ته) دا عذاب او رسوائي په سبب د هغو عملونو دی چه پخوا لیږلي دي دواړو لاسونو ستا (یعنی تا) او (بل په سبب د دې دی چه) بیشکه الله نه دی (هیڅ قدر) ظلم کوونکی پر بندګانو (خپلو چه بې ګناه څوک په عذاب کړي).

**تفسير:** یعنی د داسې واضحو دلائلو او شواهدو له اوریدلو څخه وروسته بیا هم کاږه تلونکي، ضد کوونکي او معاند خلق د الله تعالیٰ په خبرو کښې هم داسې چتې (بیکاره) او بې سنده جګړې کوي، حال دا چه له دوی سره نه کوم ضروري علم، نه عقلي دلیل او نه سمعي سند وي بلکه تش په اوهامو او ګومانونو پسې روان دي. په دې حال کښې چه اړوي ددهٔ خپله له ایمانه په تکبر او اعراض سره او جګړې کوي چه ګمراه کړي خلق له لیارې د الله شته ده لره په دنیا کښې رسوائي الخ یعنی هر هغه څوک چه بې له حجت او دلیله تش د عناد له امله (وجې) د الله تعالیٰ په خبرو کښې جګړې کوي او غرض ئې دا وي چه نور خلق د ایمان او یقین له لیارې څخه وګرځوي نو الله تعالیٰ به هغه په دنیا کښې خوار او ذلیل کړي او د آخرت عذاب او رسوائي خو بیله ورته تیاره ده.

څه مهال (وخت) چه دوی ته سزا ورکوله کیږي نو دوی ته به وویل شي چه د الله تعالیٰ له لوري پر هیچا هیڅ ظلم او تیرې نه کیږي! دا هر څه چه دي ستاسې د لاسونو څخه دي چه اوس ئې خوند څکئ!.

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّعْبُدُ اللّٰهَ عَلٰى حَرْفٍ ۚ فَاِنْ اَصَابَهٗ خَيْرُ ِۨاطْمَاَنَّ بِهٖ ۚ وَاِنْ اَصَابَتْهُ فِتْنَةُ ِۨانْقَلَبَ عَلٰى وَجْهِهٖ ۚ خَسِرَ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةَ ۗ ذٰلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِيْنُ ﴿۱۱﴾

او ځینې له خلقو هغه څوک دي چه عبادت کوي د الله په څنګ باندې (یا شک او شبهه چه په دین کښې ئې پیدا کوي او حق ئې نه ګڼي) پس که ورسیږي ده ته کوم خیر (په سبب د دین سره لکه صحت او غنیٰ) نو قائم پاتې شي په دغه (عبادت او دین) او که ورسیږي ورته کوم مصیبت نو بیرته وګرځي په مخ خپل (کفر ته نو) زیانکار شو په دنیا کښې (چه خپل مراد ته ونه رسید) او (زیانکار شو په) آخرت کښې (چه عمل ئې باطل او په اور

کښې داخل شو) دغه (د دواړو جهانو زيان) هم دغه زيان دی ښکاره

**تفسير:** يعنی ځينی کسان تش د دنيوی اغراضو له امله (وجی) دين اختياروی او زړه ئی مذبذب وی که په دين کښی په ننوتلو سره څه دنيوی گټه (فائده) ووينی په ښکاره ډول (طريقه) په بندگی قائم پاتی کيږی او که څه تکليف ومومی نو دين پريږدی او په دنيا پسی ځغلی، نو دين تری هلته پاتی شو او دنيا تری دلته نه د هغه طرف د تگ لايق او وړ (مستحق) شو او نه د دی طرف. لکه چه څوک د يوی مانی په يوه څنده (غاړه) ولاړ وی که ئی خوښه شی دی خوا ته راځی او که ئی خوښه شی هغه خوا ته ځی او تل تيښتی ته تيار ولاړ وی.

يَدْعُوا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَضُرُّهٗ وَمَا لَا يَنْفَعُهٗ ۭ ذٰلِكَ هُوَ الضَّلٰلُ الْبَعِيْدُ ﴿۱۲﴾

غواړی دی (عبادت کوی مشرک) غير له الله د هغه څه چه نه ضرر رسولی شی ورته (که ئی عبادت ونه کړی) او د هغه چه نه نفع رسولی شی ورته (که ئی عبادت وکړی) دغه (عبادت د ماسویٰ الله) هم دغه گمراهی ده ډيره لری (له حقه له مقصده).

**تفسير:** يعنی د الله تعالیٰ بندگی ئی د دنيوی ښيگڼی (فائدی) د نه موندلو له سببه پريښووده اوس نو هغو شيانو ته ناری وهی چه د دوی په واک او اختيار کښی د يوی ذری په اندازه نه څه گټه (فائده) شته او نه څه نقصان. آيا هغه شی چه پاک الله دوی ته نه دی ورکړی هغه به له تيږو (گټو) او نورو څخه حاصل کړی له دی نه به پورته بله کومه ناپوهی او حماقت وی؟ بلکه نه به وی!.

يَدْعُوا لَمَنْ ضَرُّهٗٓ اَقْرَبُ مِنْ نَّفْعِهٖ ۭ لَبِئْسَ الْمَوْلٰى وَلَبِئْسَ الْعَشِيْرُ ﴿۱۳﴾

بولی دوی (عبادت کوی مشرکان) د هغه (معبود) چه ضرر د هغه (عابد ته ئی) ډير نژدی دی له گټی د هغه (معبود دغه عابد ته چه د شفاعت هيله (اميد) ده) خامخا بد دوست دی (دا بت) او خامخا بد ملگری دی (دا بت)،

**تفسير:** يعنی که د بت پرستانو له زعم سره موافق له بتانو څخه د گټی هيله (اميد) لری نو

دغه هيله (اميد) بې‌فائدې او موهوم شي دي. ليکن د دوی له عبادت څخه نقصان او ضرر رسيدل قطعي او يقيني دي. نو ځکه د دوی د فائدې خبره به وروسته له دې نه ليدل کيږي. نقصان خو اوس سم د لاسه وررورسيد.

( ﴿ لَبِئۡسَ ٱلۡمَوۡلَىٰ وَلَبِئۡسَ ٱلۡعَشِيرُ ﴾ خامخا بد مددګار دی دا بت او خامخا بد ملګری دی دا بت) يعنې کله چه په قيامت کښې د بت پرستۍ نتائج ور د مخه شي نو بت پرستان به هم داسې وائي ﴿ لَبِئۡسَ ٱلۡمَوۡلَىٰ وَلَبِئۡسَ ٱلۡعَشِيرُ ﴾ يعنې د هغو ځنې چه د لويو لويو مرستو (مددونو) او ملګرتياؤ هيله (اميد) او توقع وه هغه ډير بد او خراب ملګری او مددګاران ثابت شول. نفع لا څه بلکه بالعکس زمونږ د زيان او نقصان سبب شول.

---

إِنَّ ٱللَّهَ يُدۡخِلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَفۡعَلُ مَا يُرِيدُ ﴿١٤﴾

---

بيشکه چه الله ننه باسي هغه کسان چه ايمان ئې راوړی دی او کړي ئې دي ښه (عملونه په داسې) جنتونو کښې چه بهيږي له لاندې (د ونو او مانيو د هغو ځلور قسمه) وياله. بيشکه چه الله کوي هر هغه چه اراده وکړي (چه ځينې ئې د مطيعانو کرامت او د عاصيانو اهانت دی).

---

**تفسير:** د منکرينو مجادلينو او مذبذبينو څخه وروسته ئې دلته د مخلصو مؤمنانو نيکه خاتمه او ښه انجام بيان کړ. يعنې پاک الله د هر هغه چا په نسبت چه مشيت او اراده وکړي سزا ورکوي او هر هغه ته چه اراده او مشيت ئې وي انعام ورکوي. هيڅوک د دې خبرې توان نه لري چه د ده د قدرت لاس ونيسي.

---

مَن كَانَ يَظُنُّ أَن لَّن يَنصُرَهُ ٱللَّهُ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ فَلۡيَمۡدُدۡ بِسَبَبٍ إِلَى ٱلسَّمَآءِ ثُمَّ لۡيَقۡطَعۡ فَلۡيَنظُرۡ هَلۡ يُذۡهِبَنَّ كَيۡدُهُۥ مَا يَغِيظُ ﴿١٥﴾

---

هر څوک چه (داسې) وي چه ګومان کوي د دې چه له سره به مرسته (مدد) ونه کړي له دغه (محمد) سره الله په دنيا کښې او په آخرت کښې نو ودې غځوي يو پړی آسمان ته (يا چت ته او ځان دې پرې ځوړند کړي) بيا دې پرې کړي (دغه پړی چه ولويږي او مړ شي يا دې ځان غرغره کړي) بيا دې

وګوري چه آیا بیا زائلولی شي هیله (امید) ـ تدبیر د هغه (سړي) هغه شي لره چه دی ئې په قهر کړی دی (چه د الله له خوا د محمد نصرت دی)

**تفسیر:** په «لن ینصره» کښې د مفعول ضمیر نبی کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم ته راجع دی. ګویا چه د هغه تصور تل د قرآن د لوستونکي په ذهن کښې موجود وي. (نو اضمار قبل الذکر رانه غی) ځکه چه هم دی د پاک قرآن لومړنی مخاطب دی. ګواکې د مؤمنانو د انجام د ذکر څخه وروسته دغه د رسول د مستقبل بیان دی. لنده دا چه الله تعالیٰ د خپل رسول سره د دنیوي او اخروي فتحې او نصرت کومې وعدې چه کړې دي هغه هرومرو (خامخا) پوره کیدونکې دي، که کافران او حاسدان ډیر په قهر او خفه شي او د رباني نصرت د مخنیوي او انسداد دپاره ډیر زیات او سخت تدابیر هم ونیسي لیکن د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د نصرت او بری او کامیابۍ مخه په هیڅ ډول (طریقه) سره نشي نیولی او هغه به هرومرو (خامخا) تر سره کیږي، که دغه کفار او حاسدین د محمد صلی الله علیه وسلم په دغه نصرت ډیر زیات خفه او غمجن دي او په دې باندې پوهیږي چه مونږ په خپلو کوښښونو او زیار (محنت) ویستلو سره د الله د ارادې او مشیت لپاره بندولی شو نو دوی دې خپل انتهائي زیار (محنت) او کوښښ په دې لپاره کښې ولګوي! او ښه ربړونه (تکلیفونه) دې په ځان وګالي (برداشت کړي)! تر دې پورې چه د پړي یو سر دې د چت په لاړو کښې ښه جګ (وچت) وتړي او بل سر دې د تیزندې، په شان په خپله غاړه کښې واچوي او په خپل لاس دې خپل ځان غرغره کړي او په دې صورت دې له ډیر قهر او خفګان څخه خپل ځان مړ او خلاص کړي یا که ئې له لاسه پوره وي نو یو پړی دې له آسمان څخه ځوړند کړي او په هغې دې آسمان ته وخیژي او له هغه ځایه دې آسماني نصرت قطع کړي نو بیا دې د راښکته کیدو نه وروسته وګوري چه په دغو تدبیرونو سره دغه رباني معاونت او آسماني نصرت منقطع کیږي؟ چه په هغه دوی دومره په قهر او غصه او پیچ او تاو کښې دي. زیاترو مفسرینو د دې آیت تفسیر هم داسې کړی دی لیکن حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه دغه آیت د ﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَعْبُدُ اللَّهَ عَلَىٰ حَرْفٍ﴾ الآیة ـ د مضمون سره لګولی او نهایت لطیف تقریر ئې پرې کړی دی د ده په نزد ﴿مَنْ كَانَ يَظُنُّ أَنْ لَنْ يَنْصُرَهُ﴾ الآیة ـ کښې د مفعول ضمیر «من» ته راجع کیږي! مطلب ئې دا دی که څوک د دنیوي تکالیفو په سبب له خدای تعالیٰ نه مایوس کیږي او د هغه له عبادت څخه غاړه غړوي او د باطلو شیانو په عبادت کښې لګیا کیږي دی دې د خپل زړه دغه تصمیم داسې قیاس کړي لکه چه یوه سړي له پاسه په رسۍ کښې ځان ترلی وي که دی په هغې سره پاس ختلی نشي، داسې هیله (امید) او توقع خو کیدی شي که دغه رسۍ پورته راښکلی شي نو دی د هغې په واسطه پورته ختلی شي کله چه دی هغه رسۍ پرې کړي نو بیا د ده د پورته ختلو دپاره څه وسیله او توقع باقي پاتې کیږي؟ آیا د الله تعالیٰ د رحمت څخه په نا امیده کیدلو کښې بری او کامیابي حاصلیدی شي؟ ګواکې د الله تعالیٰ امید ته ئې «رسۍ» وویله او د هغې د پرې کولو څخه ئې ناامیدي مراد کړه او له آسمان

ځخه جګوالی (اوچت والی) مراد دی. والله اعلم.

وَكَذٰلِكَ أَنزَلْنٰهُ ءَايٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ وَأَنَّ اللّٰهَ يَهْدِى مَن يُرِيدُ ﴿١٦﴾

او په شان (د دغو منزله ؤ آیتونو) نازل کړی لیږلی دی مونږ آیتونه ښکاره او بیشکه چه الله سمه صافه لاره ښئی هر هغه چا ته چه اراده وکړی (د هغه د هدایت).

**تفسیر:** یعنی څرنګه صاف، صاف مثالونه او ښکاره خبری دی مګر پوهیدل د هم هغه سړی په برخه دی چه پاک الله ورته څه فهم او د پوهی څه قوت ور په برخه کړی وی.

إِنَّ الَّذِينَ ءَامَنُوا وَالَّذِينَ هَادُوا وَالصّٰبِـِٔينَ وَالنَّصٰرٰى
وَالْمَجُوسَ وَالَّذِينَ أَشْرَكُوٓا إِنَّ اللّٰهَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ
إِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ ﴿١٧﴾

بیشکه هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او هغه کسان چه یهودیان دی او (هغه کسان چه) صابیان دی او (هغه کسان چه) نصرانیان دی او (هغه کسان چه) مجوسیان دی او هغه کسان چه شریک ئی پیدا کړی دی له الله سره بیشکه چه الله به فیصله وکړی په منځ د دوی کښی په ورځ د قیامت کښی، بیشکه چه الله په هر شی باندی ښه عالم شاهد دی.

**تفسیر:** مجوس د اور عبادت کوی او په دوه خدایانو عقیده لری یو د خیر په خدای چه دوی ورته (یزدان) وائی دوهم د شر په خدای چه هغه (اهرمن) بولی او د کوم نبی نوم هم یادوی، دا معلومه نه ده چه دوی له هدایت ځخه وروسته په ضلالت مبتلا شوی دی یا له ابتداء ځخه په غلطه لیار روان دی، کوم کلام چه شهرستانی په (الملل والنحل) کښی د دوی په مذهب کړی دی، ښائی چه هغه ولوستل شی، د صابئینو او نورو ذکر پخوا له دی نه تیر شوی دی لنده دا چه د دغو ګردو (ټولو) مذاهبو او فرقو د منازعی عملی او قاطع فیصله به د الله تعالیٰ له درباره د قیامت په ورځ کښی کیږی او هر یو به سره جدا کوی او خپلو خپلو ټاکلو (مقرر شویو) ځایونو ته به ئی رسوی. په دی باندی یوازی پاک الله عالم دی چه کوم یو د کوم مقام او د کومی سزا مستحق دی؟.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يَسْجُدُ لَهُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَمَن فِي الْأَرْضِ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ وَالنُّجُومُ وَالْجِبَالُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَابُّ وَكَثِيرٌ مِّنَ النَّاسِ ۖ وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيْهِ الْعَذَابُ ۗ وَمَن يُهِنِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِن مُّكْرِمٍ ۚ إِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يَشَاءُ ۩ ﴿١٨﴾ السجدة

آيا نه وينې نه پوهيږې ته چه بيشکه الله چه دی سجده ږدی (عبادت کوی) ده ته هر هغه چه په آسمانونو کښې دی (له علوياتو) او هر هغه چه په ځمکه کښې دی (له سفلياتو) او لمر او سپوږمی او ستوری (په پريوتلو او ختلو سره) او غرونه (په افاضه د چينو او معادنو خپلو سره) او ونی (د سيورو له جهته) او ځلوربول (د ځمکی په تګ سره) او ډير له خلقو (چه مؤمنان دی په عبادت سره او ډير دی (له کفارو) چه ثابت شوی دی پری عذاب (چه سجده نه ږدی الله ته)، او هر څوک چه سپک ئی کړی الله پس نشته ده ته هيڅوک عزت ورکوونکی، بيشکه چه الله کوی هر هغه کار چه اراده ئی وکړی (له) اکرام او اهانت څخه)

**تفسير:** يوه سجده ده چه په هغی کښې د آسمان او ځمکی هر يو مخلوق شامل دی هغه دا چه د الله تعالیٰ د قدرت په مقابل کښې تول سره تکويناً مطيع، منقاد، عاجز او ناتوان دی او هرومرو (خامخا) هر شی د ده په مقابل کښې غاړه ږدی او سر ښکته کوی. دوهمه د هر يو شی بيله سجده ده هغه دا چه هر يو شی چه د هر يوه کار دپاره ئی پيدا کړی دی هغه په هم هغه کار کښې لګيا اوسی نو د دوی هم دغه د وظيفی اداء د دوی سجده ده. دغه سجده ډير خلق کوی او ډير ئی نه کوی مګر له انسانانو څخه پرته (علاوه) ئی نور تول مخلوقات کوی. بنا په دی په ﴿ أَنَّ اللَّهَ يَسْجُدُ لَهُ ﴾ الآية - کښې د هر شی سجده به د هغه د شان سره لايقه سجده مراد وی يا به د ﴿ وَمَن فِي الْأَرْضِ ﴾ څخه وروسته بله يسجد مقدره وی.

**تنبيه:** له پخوانی آيت سره ئی ربط داسی دی چه د مختلفو مذاهبو خلق په خپلو منځونو کښې سره اختلاف لري، حال دا چه نور تول مخلوق الله تعالیٰ ته مطيع او منقاد دی، انسان چه له نورو مخلوقاتو څخه زيات پوه او عاقل دی لازم وو چه تول انسانی افراد د نورو مخلوقاتو په نسبت د الله تعالیٰ په عبوديت کښې سره زيات متحد او متفق وی او ډير اخلاص او صميميت ئی پکښې ښرګندولی خو ډير دی له دغو انسانانو څخه چه په سبب د کفر او له سجدی څخه د

غاړی غړولو له امله (وجی) حکم کړی شوی دی په دوی باندی په عذاب سره چه دغه کفار دی یعنی د سجدی د انکار او اعراض په سبب د عذاب مستحق شول او هر څوک چه خوار او سپک ئی کړی الله پس نشته ده ته هیڅوک عزت ورکوونکی بیشکه چه الله کوی هر هغه کار چه اراده ئی وکړی له اکرام او اهانت څخه یعنی الله هر هغه څوک چه د هغه د اعمالو د شامت له کبله (وجی) د هغه ذلیل کول وغواړی نو څوک دی چه هغه د ذلت له ژوری کندی څخه راوباسی او د عزت لوړ (وچت) مقام ته ئی ورسوی؟.

هٰذٰنِ خَصۡمٰنِ اخۡتَصَمُوۡا فِیۡ رَبِّهِمۡ ۫

دا دواړه (ډلی مؤمنان او کافران) مدعیان دی چه جګړه ئی وکړه په (ذات، صفات او دین د) رب خپل کښی

**تفسیر:** یعنی پخوا له دی نه په ﴿ اِنَّ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا وَالَّذِیۡنَ هَادُوۡا وَالصّٰبِـِٕیۡنَ ﴾ الآیة - کښی چه د هغو فرقو ذکر وشو هغو ته د حق او باطل له حیثه دوه ډلی ویلی شو یوه د مؤمنانو ډله چه د خپل رب ټول اوامر منی او د ده د احکامو په مقابل کښی سر په سجده ږدی. دوهمه د کفارو ډله چه په هغو کښی یهودان، نصرانیان، مجوسان، مشرکین صابئین او نور ټول شامل دی او د ده ربانی هدایت نه قبلوی او د ده د اطاعت دپاره سر په سجده نه ږدی، دغه دواړه ډلی په دغو، مباحثو او مناظرو کښی د جهاد او قتال په مواقعو کښی هم یو د بل په مقابل کښی ټینګ ولاړ وی لکه چه د بدر د مبارزی (جنګ) په میدان کښی حضرت علی، حضرت حمزه او عبیده بن الحارث رضی الله تعالیٰ عنهم د دریو کافرانو (عتبه ابن ربیعه، شیبه ابن ربیعه او ولید بن عتبه) په مقابل کښی د مبارزی (جنګ) دپاره وتلی وو، وروسته د دغو دواړو ډلو انجام راښیی.

فَالَّذِیۡنَ كَفَرُوۡا قُطِّعَتۡ لَهُمۡ ثِیَابٌ مِّنۡ نَّارٍ ؕ

پس هغه کسان چه کافران شوی دی ځکختی (جوړولی) شی دوی دپاره جامی له اوره،

**تفسیر:** یعنی لکه څنګه چه کالی (جامی) د انسان بدن پټوی د جهنم اور به هم دغه راز (قسم) دوی احاطه کوی او تری به چاپیریږی یا به د کوم داسی شی کالی (جامی) ورواغوستل شی چه د اور ګرمی به پری ډیر ژر اثر کوی او ډیر زیات به سور کیږی.

يُصَبُّ مِن فَوۡقِ رُءُوسِهِمُ ٱلۡحَمِيمُ ﴿١٩﴾ يُصۡهَرُ بِهِۦ مَا فِي بُطُونِهِمۡ وَٱلۡجُلُودُ ﴿٢٠﴾
وَلَهُم مَّقَٰمِعُ مِنۡ حَدِيدٖ ﴿٢١﴾

اچولی به شي (په شدت سره) له پاسه د سرونو د دوی اوبه سری یشیدلی، چه خوړین به شي په دغو اوبو سره هغه (کولمی) چه په ګیډو د دوی کښې دی او پوستکی (د دوی هم). او وی به د دوی دپاره ځتکونه (ګرزونه) له اوسپنی (چه د دوی سرونه به پری تکولی او وهلی شي).

**تفسیر:** یعنی د دوزخیانو ککرئ به په ځتکونو ګرزونو سره میده کیږی او یشیدلی اوبه به له پاسه پری اچولی کیږی چه د ماغزو له لاری به د دوی ګیډی ته ورځی او له هغه ځخه به د دوی تولی کولمی توتی توتی د دوی له مقعدو ځخه لاندی توئیږی او د دوی د بدن خارجی سطح به هم د دی اوبو له رسیدلو ځخه بیخی شریږی او د ورستی وینی غوښی په شان به تری لویږی بیا به خپل اصلی حالت ته بیرته ورګرځی او پرله پسی به هم دغه عمل تکراریږی ﴿ كُلَّمَا نَضِجَتۡ جُلُودُهُم بَدَّلۡنَٰهُمۡ جُلُودًا غَيۡرَهَا لِيَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَ ﴾ جزء ۵ دالنساء ۵٦ آیت (۸) رکوع. **اللّٰهم اعذنا من غضبک وعذابک!**

كُلَّمَآ أَرَادُوٓاْ أَن يَخۡرُجُواْ مِنۡهَا مِنۡ غَمٍّ أُعِيدُواْ فِيهَا وَذُوقُواْ عَذَابَ ٱلۡحَرِيقِ ﴿٢٢﴾

هر کله چه اراده وکړی (دوزخیان) د دی چه ووځی له دغه (دوزخ ځخه) له غمه نو بیرته ګرځولی شي دوی په دغه (اور) کښې او ( وبه ویلی شي دوی ته) وځکئ تاسی عذاب (د اور ډیر) سوځوونکی.

**تفسیر:** یعنی کله چه کافران په دوزخ کښې ډیر غم او تکلیف ووینی نو وبه غواړی چه له دی ځای نه ووځی او چیری وتښتی خو د اور لمبی به دوی له ځان سره پورته کړی بیا به ئی پرښتی د اوسپنو په ګرزونو سره وهی او لاندی به ئی غورځوی او داسی به ورته ویل کیږی «د اور د دغه دائمی عذاب خوند وځکئ!» چه له سره به تری بیرته نشئ وتلی «العیاذ بالله»

إِنَّ اللَّهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا ۖ

بیشکه چه الله ننه باسی هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه په داسی) جنتونو کښی چه بهیږی له لاندی (د مانیو او ونو) د هغو (څلور قسمه) ویالی ګانه (زیورات) به واچول شی (جنتیانو ته) په دغه (جنت) کښی له باهوګانو (وښیو) له سرو زرو او له مرغلرو څخنی

**تفسیر:** یعنی په لویه هوسائی (آرام)، ښایست او زیب سره به اوسیږی او له هر یو عنوان څخه ئی تجمل تنعم څرګندیږی.

وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ ﴿٢٣﴾

او جامی د دغو (جنتیانو) به په دغه (جنت) کښی ریښمینی وی

**تفسیر:** پرومبی په ﴿ قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِّن نَّارٍ ﴾ کښی د دوزخیانو د کالیو (جامو) ذکر شوی ؤ بالمقابل په دی ځای کښی د جنتیانو د آغوستن بیان کوی چه د دوی پوښاک به له وریښمو څخه وی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «دا ئی چه ویلی دی د هغه ځای ګانه (زیور) او د هغه ځای پوښاک معلوم شو چه دغه دواړه شیان نارینه ؤ لره دلته نشته او له ګانو (زیوراتو) څخه باهو څکه تصریح شو چه کله چه د مرئی خدمت د بادار خوښ شی نو د هغه په لاس کښی کړی اچوی.»
**تنبیه:** په احادیثو کښی راغلی دی «هر هغه نارینه چه دلته د وریښمو کالی (جامی) واغوندی نو په آخرت کښی به ئی نه آغوندی.» که دغه آغوستونکی کافر وی نو ښکاره ده چه هغه له سره په جنت کښی نه داخلیږی چه د جنتیانو لباس واغوندی. هو! که مؤمن وی امکان لری چه د څه مودی له مخی د دغه لباس څخه محروم شی او بیا ئی تر ابده پوری واغوندی نو د دغه غیر متناهی مودی په مقابل کښی دغه لږ زمانه غیر معتد به ګڼله کیږی.

وَهُدُوا إِلَى الطَّيِّبِ مِنَ الْقَوْلِ ۚ

او لاره ښوولی شوی ده (جنتیانو ته په دنیا کښی له جانبه د الله) طیبی

پاکی ته (چه لا اله الا الله ده) له قول نه

**تفسیر:** هر هغه مؤمن چه په دنیا کښې (لا اله الا الله) ویلی وی قرآن ئی لوستلی وی د الله تعالیٰ تسبیح او تحمید، امر بالمعروف، نهی عن المنکر ئی کړی وی نو په آخرت کښې به هم پرښتې له هری خوا دوی ته سلامونه اچوی او په خپله جنتیان به هم په خپلو منځونو کښې یو بل ته ښې پاکې خبری کوی، هلته به بې ځایه خبری، شورماشور، دعوی او دنګلی نه وی او تول به د الله تعالیٰ د نعمتونو په شکر ګزارئ کښې لګیا او مشغول وی. مثلاً وائی به ﴿ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ صَدَقَنَا وَعْدَهٗ وَاَوْرَثَنَا الْاَرْضَ نَتَبَوَّاُ مِنَ الْجَنَّةِ ﴾ جزء ۲٤ (۷٤ آیت) د «فاطر» په سورت (۳۳-۳٤) آیت کښې راغلی دی ﴿ یُحَلَّوْنَ فِیْهَا مِنْ اَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَّلُؤْلُؤًا وَلِبَاسُهُمْ فِیْهَا حَرِیْرٌ وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ ﴾ الآیة ـ په هم دغه سره د دی حاضر آیت تفسیر کیږی. نبه علیه فی الروح المعانی.

وَهُدُوْٓا اِلٰی صِرَاطِ الْحَمِیْدِ ﴿۲٤﴾

او لار ښوولی شوی ده (جنتیانو ته په دنیا کښې) طرف د لاری (د الله) ته چه ستایل شوی ده په ښو ښو صفتونو سره

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ لاره ئی ومونده چه نوم ئی اسلام دی، دغه لاره په خپله هم حمیده ده او د لاری خاوند هم حمید دی، یا ئی هغه ځای ته لاره ومونده چه هغه ته په رسیدلو سره انسان د الله تعالیٰ د نعمتونو شکر اداء کوی.

اِنَّ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا وَیَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ الَّذِیْ جَعَلْنٰهُ لِلنَّاسِ سَوَآءَ اِلْعَاکِفُ فِیْهِ وَالْبَادِ

بیشکه هغه کسان چه کافران شوی دی او اړوی (منع کوی خلق) له لاری د الله (اسلام نه) او له مسجد حرام نه (نو معذبیږی په عقبیٰ کښې) هغه (مسجد) چه ګرځولی دی مونږ دغه مسجد ځای د عبادت دپاره د (تولو) خلقو برابر دی اوسیدونکی په دغه (مسجد) کښې او له بهره راتلونکی،

**تفسیر:** پخوا په ﴿ هٰذٰنِ خَصْمٰنِ اخْتَصَمُوْا ﴾ کښې د مؤمنانو او د کفارو د جګړی ذکر ؤ اوس د هم هغی جګړی ځینی نور صورتونه دلته بیانوی. یعنی یو خو هغه خلق دی چه له خپلی ګمراهی سره سره د نورو مخه هم نیسی چه د هدایت په لاره لاړ نشی او غواړی چه هیڅوک د

الله تعالیٰ په لاره سم نشي تر دی هغه مسلمانان چه د خپل پیغمبر سره د عمری د اداء کولو دپاره مکی معظمی ته روان وو د هغوی مخه ئی هم ونیوله حال دا چه مسجد الحرام یا د حرم شریف هغه برخه چه په هغې پوری د خلقو عبادت او مناسک تعلق لری تولو ته یو شان دی او هلته مقیم او مسافر او محلی او پردیسی ته د اوسیدلو او عبادت کولو مساوی حقوق حاصل دی هو! که څوک د هغو متبرکو ځایونو څخه د شرلو وړ (مستحق) او لایق وی نو هم هغه کسان دی چه په خپل شرک او شرارت د دی مبارک ځای بی‌احترامی او بی‌عزتی کوی.

**تنبیه:** د مکی معظمی د کورونو ملکیت، بیع او شری او نور یوه مستقله مسئله ده چه د هغه کافی بیان په «روح المعانی» او نورو تفاسیرو کښی شته او دلته د هغو د بیان او تفصیل موقع نشته.

---

وَمَن يُرِدْ فِيهِ بِإِلْحَادٍۭ بِظُلْمٍ نُّذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢٥﴾

---

او هر چا چه اراده وکړه په دغه (مسجد الحرام) کښی د بی لاری (د حق نه په مخ ګرځولو سره) په ظلم سره نو وبه څکوو مونږ په هغه (کږیدونکی) له عذاب دردناک څخه،

---

**تفسیر:** یعنی هغه څوک چه په مسجد الحرام کښی عمداً او بالاراده د بی دینی او شرارت کومه خبره کوی نو هغه ته به د هغه چا په نسبت چه دغه کار په بل ځای کښی کوی سخته سزا ورکړی شی نو له دی نه د هغو خلقو حال معلوم کړئ چه په خپل ظلم او شرارت سره ئی د مؤمنانو مخه د مکی معظمی د زیارت د ورتګ په وخت کښی نیولی وه.

---

وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَاهِيمَ مَكَانَ الْبَيْتِ

---

او (یاد کړه ای محمده!) هغه وخت چه ښکاره (معین) کړ مونږ ابراهیم ته ځای د بیت (الله)

---

**تفسیر:** وائی چه د کعبی شریفی ځای لا له پخوا څخه مقدس او متبرک ؤ بیا د ډیری مودی په تیریدو سره ورک او نامعلوم شو، حضرت ابراهیم علیه السلام ته حکم وشو چه بیت الله ودانه کړه! او د هغه معظم مقام نښی وروښودل شوی، حضرت ابراهیم علیه السلام د خپل زوی حضرت اسمٰعیل علیه السلام په ملګرتیا د کعبی خونه (کور) ودانه کړه.

**تنبیه:** د مسجد الحرام ذکر پخوا راغلی ؤ نو د هغه په مناسبت د کعبی شریفی د بناء حال او د هغې په متعلق د ځینو احکامو بیان وکړی شو.

## أَن لَّا تُشْرِكْ بِي شَيْئًا

(او ورته مو ووېل دا) چه مه شريکوه له ما سره هيڅ شي

**تفسير:** يعنى د دى كور بنسټ (بيخ)او تاداو (بنياد) په خالص توحيد باندى كيږده ! هيڅوک دى چه دغه ځاى ته راشى د الله تعالىٰ د عبادت څخه پرته (علاوه) مشركانه رسوم په ځاى نه راوړى، د مكى معظمى كفارو سره له دى چه د ابراهيمى ملت مدعيان وو پر دغه آيت داسى عمل وكړ چه هلته ئى درى سوه او شپيته بتان ودرول (العياذ بالله) زمونږ سيد المرسلين خاتم الانبياء محمد مصطفىٰ صلى الله عليه وسلم دغه مطهر او مقدس ځاى له دغه نجاست او ګندګى څخه د تل له پاره پاک كړ فلله الحمد والمنة.

## وَطَهِّرْ بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْقَائِمِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ ﴿٢٦﴾

او پاک ساته كور زما (له بتانو او نورو پليتيو څخه) دپاره د طواف كوونكو او دپاره د قيام كوونكو (په مكه كښى) او ركوع كوونكو او سجده كوونكو (لمونځ كوونكو لپاره)

**تفسير:** يعنى يوازى د هم دغو خلقو له پاره دى مخصوص وى او له نورو ګردو (تولو) څخه دى پاک او صاف كړ شى، حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليكى «په پخوانيو امتونو كښى ركوع نه وه دغه خاص د محمدى امت په لمانځه كښى شته نو خبر وركړه چه راتلونكى خلق به د دى ودانوونكى وى» وفيه نظرفتأمل.

## وَأَذِّن فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ ﴿٢٧﴾

او غږ وكړه (اى ابراهيمه) په خلقو كښى د حج (د ادا كولو) دپاره چه راشى (حاجيان) تاته پلى (پياده) او (سواره) په هر ډنګر اوښ چه راځى (دا اوښان) له هرى لارى لرى (ژورى لرى) نه.

**تفسیر:** کله چه کعبه ودانه شوه، نو حضرت ابراهیم علیه السلام په یوه جګ (وچت) غره باندی ودرید او داسی غږ ئی وکړ «ای خلقو! پاک الله په تاسی حج فرض کړی دی! حج ته راشئ» حق تعالیٰ دغه غږ په هر ځای کښی هر روح ته ورساوه لکه چه بلاتشبیه مونږ د ایشیاء په منځ «افغانستان» کښی ناست یو او د لری او نژدی هیوادونو غږونه آورو نو د هر چا دپاره چه حج مقدر ؤ د هغه روح دغه غږ ته لبیک وویل او هم هغه د شوق پټی سکروټی دی چه په زرهاؤ پلی (پیاده) هم د حج د سفر ربړونه (تکلیفونه) په ځان اخلی او د بیت الله په لیدلو سره خپلی سترګی رڼوی او ډیر زیات خلق خو له دومره لری ځایونو څخه سواره د مکی معظمی په لوری سفر کوی چه له ډیرو مزلونو او سفر کولو څخه د دوی اوښان ستری ستومانه او بیخی خوار او ډنګر کیږی. زیاترو حاجیانو ته غښتلی او څاربه اوښان کله وررسیږی نو ځکه په هم دغو خوارو ډنګرو، وچو، کلکو اوښانو مزلونه کوی دا ګواکی د هم هغی دعاء د مقبولیت اثر دی چه حضرت ابراهیم علیه السلام کړی وه ﴿ فَاجْعَلْ أَفْـِٕدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهْوِيٓ إِلَيْهِمْ ﴾ جزء ۱۳ (د ابراهیم د سورت ۳۷ آیت (٦) رکوع)

---

لِّيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ فِيٓ أَيَّامٍ مَّعْلُومَٰتٍ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّنۢ بَهِيمَةِ الْأَنْعَٰمِ

---

دپاره د دی چه حاضر شی (دغه خلق ځای د دنیوی او اخروی) ګټو خپلو ته، او چه یاد کړی نوم د الله په هغو څو ورځو (د لوی اختر) کښی چه معلومی دی په (ذبح د) هر هغه حیوان چه ورکړی دی الله دوی ته له بی ژبو چارپایانو څخه

---

**تفسیر:** د بیت الله د حج اصلی مقصد خو د دنیوی او اخروی ګټو حاصلول دی مثلاً د حج او عمری او د نورو عباداتو په ذریعه د الله تعالیٰ خوښی حاصلول او د روحانی ترقیاتو لوړو (وچتو) مقاماتو ته رسیدل. لیکن د دغی لوئی اجتماع په ضمن کښی ډیر زیات سیاسی، تمدنی او اقتصادی ګټی هم حاصلیدی شی کما لا یخفی.
«ایام معلومات» څخه د ځینو په نزد د ذالحجی ړومبنی لس ورځی دی او د ځینو په نزد د قربانی دری ورځی مراد دی. په هر حال په دغو ورځو کښی د الله تعالیٰ د یادونی فضیلت ډیر زیات ښوولی شوی دی. د دغه ذکر لاندی په خصوصی دول (طریقه) دا هم داخل دی چه د قربانی د حیواناتو د ذبح کولو په وخت کښی دی د الله تعالیٰ نوم واخیست شی او بسم الله ـ الله اکبر دی وویل شی. په دغو ورځو کښی خورا (ډیر) ښه عمل هم دا دی چه د پاک الله په نامه دی ذبح وکړی شی.

فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْبَآئِسَ الْفَقِيرَ ۝٢٨

پس خورئ تاسی له هغی (غوښی) څخه او خوروئ ئی په بد حال فقیر (محتاج)

**تفسیر:** ځینو کفارو داسی خیال کاوه چه په خپله قربانی کوونکی ته نه ښائی چه د قربانی له غوښی څخه څه وخوری، دا دی په دی آیت کښی د دی مفکوری اصلاح او حکم کوی چه له دغی غوښی څخه هم تاسی په شوق سره وخورئ هم ئی په خپلو دوستانو، خپلوانو خوارانو او غریبانو وخوروئ!

ثُمَّ لْيَقْضُوا تَفَثَهُمْ وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ ۝٢٩

بیا دی لری کړی (حاجیان حاجتونه او) خیری خپل او پوره دی اداء کړی نذرونه خپل (او د حج واجبات) او طواف دی وکړی په هغه کور چه قدیم کریم دی.

**تفسیر:** له کوم ځایه چه لبیک ویل شروع کیږی (احرام تړل کیږی) نو محرم نه وینه وباسی، نه خپل ویښتان او نوکان اخلی، نه خپل ویښتان غوړوی نه د بدن د خیرو، دوړو او ګردونو په لری کولو دومره زیات اهتمام کوی او نه په ډیره مبالغه او مېنلو لامبی. الغرض دغه د عشق او بیخودی یو عجیب او غریب حالت وی کله چه د ذیحجةالحرام لسمه ورځ راشی دغه ګرد (تول) قیدونه لری کیږی، سرونه خریل یا ویښتان اخیستل کیږی، ښه غسل کوی، ګندلی او صفا کالی (جامی) اغوندی او د کعبی د زیارت طواف ته ځی، په چا چه ذبح لازمه وی رومبی ذبح کوی او د «نذرونو» د ورکولو څخه مطلب دا دی چه هغه نذرونه چه د خپلو مطالبو دپاره ئی پر خپل ځان منلی وی هغه دی اداء کړی، اصلاً دغه نذر د الله تعالیٰ نذر دی او د بل هیچا نه دی. د ځینو په نزد د «نذرونو» د لفظ څخه د حج مناسک یا د حج واجبات مراد دی او هم دغه دیر نژدی راښکاری والله اعلم.

**تنبیه:** د «عتیق» معنی قدیمی او پخوانی دی. او د ځینو په نزد ده ته ځکه «بیت العتیق» ویل کیږی چه د دی کور د تباهی او ورانی دپاره هومره چه کوم قوی طاقت او قوت راپاسیږی الله تعالیٰ به هغه ته فتح او بری نه ورکوی او دا کور به تری خلاص او آزاد وی څو چه دی پخپله هغه د رفع او له منځه پورته کولو اراده وکړی.

ذٰلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ حُرُمٰتِ اللّٰهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُ عِندَ رَبِّهِ ۗ وَأُحِلَّتْ لَكُمُ الْأَنْعٰمُ إِلَّا مَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ ۖ فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثٰنِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ ﴿۳۰﴾

دا حکم مو واورید (یا امر هم دا دی چه تیر شو) او هر چا چه تعظیم وکړ د احکامو د الله پس دا کار غوره دی ده ته په نزد د رب د ده او حلال کړی شوی دی تاسی ته (خوراک د غوښی د) څارویو (پس له ذبحی) مګر (حرام دی) هغه څاروی چه لوستل کیږی په تاسی (حراموالی ئی) پس ځان ساتئ تاسی له پلیتی څخه چه بتان دی، او ځان ساتئ تاسی له وینا د دروغو څخه

**تفسیر:** لکه چه له ترجمی څخه ښکاری «ذلک» د محذوفی مبتدا خبر دی یعنی حرام شیان درانه ګڼل او د هغو پریښودل، یا هغه شیان چه د الله تعالیٰ له طرفه محترم ښودل شوی دی د هغوی د احترام او ادب او تعظیم قائم ساتل لویه نیکی او د ښیګڼی (فائدی) خبره ده او د هغو انجام به دیر ښه وی. په محترمو شیانو کښی د قربانی حیوان ـ بیت الله ـ صفا ـ مروه ـ منیٰ ـ عرفات ـ مسجدین ـ قرآن بلکه د الله تعالیٰ ګرد (تول) احکام راځی. په خصوصی دول (طریقه) سره دلته د مسجدالحرام او د هدیی د حیوان په تعظیم زور اچول شوی دی چه د یوه خدای د بندګانو په راتګ کښی هلته په حرم کښی څه مشکلات پیدا نه کړئ! او نه د ممانعت عوامل منځ ته راوړئ! او نه هغه د هدیی حیوانات بیرته تللو ته مجبور کړئ بلکه، قیمتی، ښه څربه څاروی قربانی کړئ!.

﴿ وَأُحِلَّتْ لَكُمُ الْأَنْعٰمُ ﴾ او حلال کړی شوی دی تاسی ته خوراک د غوښی د څارویو پس له ذبح) یعنی د دوی د ذبح حکم د حرمات الله د تعظیم په خلاف نه دی ځکه هغه مالک الملک چه د یوه شی حرمت ښولی ؤ د هغه په اجازه او د هم هغه په نامه هغه قربانی کیږی.

﴿ إِلَّا مَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ ﴾ مګر حرام دی خوراک د غوښی د هغو څارویو چه لوستل کیږی په تاسی تحریم د هغو) یعنی هغه حیوانات چه د هغو حراموالی په وخت په وخت تاسی ته ویل کیږی لکه چه په «البقرة»، «المائدة»، «الانعام» کښی مفصلاً تیر شول نو هغه حلال نه دی.

﴿ فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثٰنِ ﴾ پس ځان ساتئ تاسی له پلیتی څخه چه بتان دی) یعنی څاروی د الله تعالیٰ مخلوق او مملوک دی، یوازی د الله تعالیٰ په حکم او د هغه په نامه حلال کیدی شی او د الله تعالیٰ د کعبی نذر کیدی شی هغه ساکښی (ذی روح) چه د کوم بت یا رب النوع په قربانګاه کښی ذبح کیږی هغه مرداریږی، د داسی شرک او پلیتو کارونو څخه ځان ساتنه او

اجتناب ضروري دی.
﴿ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّوْرِ ﴾ او ځان ساتئ تاسی له وینا د دروغو څخه) یعنی دروغ ویل! او د دروغو شاهدی ورکول! د بل په نامه د الله تعالیٰ د پیدا کړو حیواناتو حلالول! بی د شرعی حکم څخه یو شی ته حلال او یا حرام ویل تول په «قول الزور» کښی داخل دی. د «قول الزور» د بدی اندازه له دی نه اتکل کیدی شی چه دلته الله تعالیٰ د هغه ذکر له شرک سره کړی دی او د الاعراف په ۳۳ آیت (٤) رکوع کښی ئی داسی ارشاد کړی دی جزء ۸
﴿ وَأَنْ تُشْرِكُوا بِاللهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَانًا وَأَنْ تَقُولُوا عَلَى اللهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴾ په احادیثو کښی رسول الله صلی الله علیه وسلم هم په ډیر تاکید او تشدید سره له دی نه ممانعت کړی دی.

## حُنَفَاءَ لِلّٰهِ غَيْرَ مُشْرِكِيْنَ بِهٖ ط

په داسی حال کښی چه غاړه ایښودونکی یئ په اخلاص سره خاص الله ته نه یئ مشرکان په ده باندی

**تفسیر:** یعنی له هر طرف او هر چا څخه مخ وګرځوئ او یوازی د هم هغه واحد لاشریک الله تعالیٰ خالص بندګان اوسئ! ښائی ستاسی تول افعال او نیتونه په کلی ډول (طریقه) بی د بل د شرک نه خاص الله تعالیٰ ته وی. او د الله تعالیٰ په الوهیت او عبادت کښی بل هیڅوک مه شریکوئ.

## وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللهِ فَكَاَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَآءِ فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ اَوْ تَهْوِيْ بِهِ الرِّيْحُ فِيْ مَكَانٍ سَحِيْقٍ ﴿۳۱﴾

او هر چا چه شریک ونیو له الله سره پس لکه چه راوغورځید له آسمان څخه پس وتښتوی دی په چابکی سره مرغان (او بوتی بوتی کوی ئی) یا وغورځوی دی باد (له کوم هسک (اوچت) ځای نه) په لری ژور (خکته) ځای کښی.

**تفسیر:** دا ئی د شرک مثال بیان کړ. خلاصه ئی دا ده چه د توحید مقام نهایت اعلیٰ دی. کله چه انسان توحید پریږدی او د کوم بل مخلوق په مقابل کښی خپل سر ښکته کړی نو دی په خپله خپل ځان ذلیل او سپک کوی او د توحید له لوړ (وچت) آسمان څخه د شرک او کفر کندی ته لویږی. ښکاره ده چه له دومره جګ (اوچت) ځای څخه دومره ژور (خکته) ځای ته له لویدلو څخه وروسته ژوندی نشی پاتی کیدی اوس خو به یا د اهواؤ او ناکارو افکارو مردار خواره

ځناوران له څلورو خواوو د ده د غوښې بوټي په خپلو مښوکو او پنجو سره دانګې دانګې او بوټي بوټي کړي او وبه ئې خوري یا به لعین شیطان د یوې تیزې ګرندې هوا په برېبوکې کښې دي له خپله ځانه سره پورته کړي او په کومه ډیره زیاته لرې ژوره (خکته) کنده کښې به ئې وغورځوي چه هیڅوک به د ده هیڅ یو هډوکی او پښتي ونه ویني یا دا چه په دې مثل کښې د دواړو اقسامو مشرکانو حال بیل بیل بیان شوی دی یو هغه مشرک چه په خپل شرک په پوره ډول (طریقه) ثابت نه وي ولاړ او د تذبذب او تردد په وضعیت کله یوې او کله بلې خوا ته متمایل کیږي نو د هغه مثال ﴿فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ﴾ کیدی شي او هغه مشرک چه په خپل شرک مضبوط او ټینګ ولاړ وي او د هغه د مثال مصداق ﴿أَوْ تَهْوِي بِهِ الرِّيحُ فِي مَكَانٍ سَحِيقٍ﴾ دی یا به له ﴿فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ﴾ څخه مراد د خلقو په لاسونو سره د هغوی وژل کیدل او د ﴿أَوْ تَهْوِي بِهِ الرِّيحُ فِي مَكَانٍ سَحِيقٍ﴾ څخه به د دوی طبیعي موت مراد وي. اکثرو مفسرینو د تشبیه د وجهې په بیان کښې د هم داسې احتمالاتو ذکر کړی دی لیکن حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکي «د هر چا نیت او مقصود چه یو الله وي هغه قایم دی او کله چه نیت او قصد متعددو خواؤ ته لاړ شي هغه تول دي پریشانه کوي او له لارې څخه ئې تښتوي یا له تولو څخه منکر او دهري کیږي».

---

ذٰلِكَ وَمَنْ يُعَظِّمْ شَعَآئِرَ اللّٰهِ فَاِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوبِ ﴿۳۲﴾

---

دا حکم مو واورید (یا امر هم دا دی چه تیر شو) او هر چا چه تعظیم وکړ د علائمو د (دین د) الله چه د حج افعال، د هدایاؤ څربول او نور عبادت دي پس بیشکه دا (تعظیم) له (افعالو د خاوندانو د) تقوىٰ د زړونو دی.

---

**تفسیر:** یعنې د شعائر الله تعظیم په شرک کښې داخل نه دی، د هر چا په زړه کښې چه د پرهیزګارۍ مضمون او د یوه خدای جل جلاله خوف وي نو دی به هرومرو (خامخا) د شعائرالله ادب او تعظیم کوي دغه ادب او تعظیم شرک نه دی بلکه د الله تعالیٰ د عین توحید له آثارو څخه دی ځکه چه د الله تعالیٰ عاشق د هر هغه شي چه خدای جل جلاله ته منسوب وي قدر او ادب کوي.

---

لَكُمْ فِيهَا مَنَافِعُ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ مَحِلُّهَآ اِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيقِ ﴿۳۳﴾

---

شته تاسي ته په دغو څلور پولو (د هدیو) کښې (ډیرې) فائدې تر وخت معلوم پورې (چه د دوی د حلالولو وخت دی) بیا (رسونه ده) ځای (د حلالولو) د دوی ته تر بیت عتیق پورې. (یا) بیا وخت د دغو منتهي دی

هغه بيت ته چه بلند شان دی.

**تفسير:** قديم كور بيت الله شريف دی او دلته ښائی توسعاً تری تول حرم مراد وی. يعنی د اوښانو، غويو، پسونو (گدانو) او نورو نه تاسی ډيری گټی حاصلولی شئ مثلاً پری سوريږئ، شودی ئی څښئ او نسل تری اخلئ او لا ئی پسی زياتوئ، له وړيو، پوستكو او نورو څخه ئی گټه (فائده) اخلئ! مگر تر هغه وخته پوری چه ئی «هديه» نه وی گرځولی ځكه چه د «هديی» گرځولو څخه وروسته داسی انتفاع تری بی له ډير شديد ضرورته نه ده روا اوس د هغو عظيم الشانه اخروی فائده هم دغه ده چه كعبی ته ئی نژدی راولئ او د الله تعالیٰ په نامه ئی قربانی كړئ!

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا لِّيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ ۗ فَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ فَلَهُ أَسْلِمُوا ۗ

او دپاره د هر امت (مؤمن) مقرره كړی ده مونږ قربانی دپاره د دی چه ياد كړی دوی نوم د الله پر هر هغه شي چه رزق، روزی گرځولی ده (الله) دوی ته له بی ژبو څلور بولو حيواناتو څخه (په وخت د ذبحی د دوی كښی) پس حق معبود ستاسی (او د پخوانيو امتونو) الله حق معبود يو دی پس خاص هم ده ته غاړه كيږدئ!

**تفسير:** يعنی الله تعالیٰ ته د نذر په ډول (طريقه) د حيواناتو حلالول په هر آسمانی دين كښی عبادت منل شوی دی كه دا عبادت تاسی غير الله ته د عبادت (نذر) په ډول (طريقه) كوئ نو دغه شرک دی. او ښائی تری سخت پرهيز وكړی شی. د موحد كار دا دی چه يوازی د پاک الله په نامه قربانی وكړی چه د هغه په پاكه نامه تولو شرائعو د قربانی كولو حكم وركړی دی او نه ښائی چه قربانی د ده له حكم څخه خارجه وی.

وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِينَ ﴿٣٤﴾

او زيری وركړه عاجزی كوونكو ته،

**تفسير:** يعنی هغو خلقو ته د الله تعالیٰ د رضاء او خوښی زيری واوروه چه يوازی د هغه واحد لا شريک خدای جل جلاله حكم منی او د هغه په مقابل كښی غاړه ږدی او په هم هغه باندی ئی

زړونه داده کيږي او د ده له جلال او جبروت څخه تل ويريږي.

الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ وَالصّٰبِرِيْنَ عَلٰى مَآ اَصَابَهُمْ وَالْمُقِيْمِي الصَّلٰوةِۙ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿٣٥﴾

هغه (عاجزي کوونکي) کله چه ياد کړ شي (د دوی په مخکښې نوم د) الله نو ويريږي زړونه د دوی او (زيری ورکړه) صبر کوونکو ته په هغو (سختيو او غمونو) چه رسيدلي دي دوی ته او زيری ورکړه) قائموونکي (سم درونکي سره له تولو حقوقو) د لمانځه ته او زيری ورکړه هغو کسانو ته چه) ځيني له هغو شيانو نه چه ورکړي دي مونږ دوی ته لګوی ئې (په ښو کارونو کښې)

**تفسير:** يعني مصيبتونه او تکليفونه په پوره صبر او ثبات سره په ځان برداشت کوی او متحمل کيږي ئې او د کړاوونو او سختيو د تحمل په وخت کښې د حقې لاری څخه ئې قدم نه ښوئيږی. ﴿ وَالْمُقِيْمِي الصَّلٰوةِ ﴾ الآية - او زيری ورکړه هغو کسانو ته چه قايموی سم دروی سره له تولو حقوقو لمونځ او زيری ورکړه هغو کسانو ته چه ځيني له هغو شيانو چه ورکړی دي مونږ دوی ته نفقه (ورکړه) کوی په ښو ښو کارونو کښې). د بيت الله تر رسيدو پوری حاجيان له ډيرو مصيبتونو او کړاوونو سره مخامخ کيږی، په سفر کښې زياتره د لمونځونو د فوتيدلو يا د قضا کيدلو انديښنه وی، مال هم په کافي اندازه سره لګيږی، ښائی په هم دغه مناسبت ئې د دغو اوصافو او خصائلو بيان کړی وی.

وَالْبُدْنَ جَعَلْنٰهَا لَكُمْ مِّنْ شَعَآئِرِ اللّٰهِ لَكُمْ فِيْهَا خَيْرٌ ۖ فَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهَا صَوَآفَّ ۚ فَاِذَا وَجَبَتْ جُنُوْبُهَا فَكُلُوْا مِنْهَا وَاَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ ؕ كَذٰلِكَ سَخَّرْنٰهَا لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿٣٦﴾

او اوښان غوايان (د هديي) ګرځولي دي مونږ دا تاسی ته له علائمو د (دين د) الله شته تاسی ته په دی کښې خير (ديني او دنيوی ګټه (فائده)) پس يادوئ نوم د الله په دی (اوښانو غوايانو د ذبحي په وخت کښې) په داسی حال چه ولاړ وی (په دريو پښو چه يوه ئې تړی تړلی وی) نو کله چه پريوتل

اړخونه د دوی (په ځمکه پس له حلالولو او روح ئی وخوت او پس له پخیدلو) نو خورئ تاسی له دی نه (که مو خوښه وی) او خورئ ئی په صبر کوونکی او په بی‌صبره (سوالګرو فقیرانو) هم داسی (لکه چه وموښوده ذبحه د دوی) تابع کړی دی مونږ دغه (مذبوحی) تاسی ته دپاره د دی چه شکر وباسئ تاسی (په دی نعمت).

**تفسیر:** پخوا د مطلق شعائر الله د تعظیم حکم ؤ اوس ئی تصریحاً وښود چه اوښ او نور د قربانی ساکښان (جاندار) هم د شعائر الله څخه دی چه د هغو په ښه او ښربه ساتنه کښی او په ادب سره په قربانی کولو کښی ستاسی دپاره ډیری دنیوی او اخروی ښیګڼی (فائدی) او ګټی شته. نو د عمومی قاعدی سره سم ښائی چه د حلالولو په وخت کښی پری د الله تعالیٰ نوم واخلئ! بالخصوص د اوښ د ذبحی خورا (ډیره) ښه طریقه «نحر» دی چه هغه قبلی ته مخامخ ودروئ او یو لاس ئی (ښی یا کیڼ) وتړی او په تتر ئی زخم (تپ) ووهی کله چه ګرده (توله) وینه ئی ووته او په ځمکه ولویده بیا ئی بوټی بوټی کړئ او تری منتفع شئ. که ډیر اوښان وی نو قطار ئی ودروئ! او په هم دغه ترتیب سره ئی نحر کړئ!. په ﴿ وَأَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ ﴾ کښی ئی دوه قسمه محتاجان وښوول یو هغه چه پر صبر او استقامت سره ناست وی، سؤال نه کوی که لږ څه وررسیږی پر هغه قناعت کوی. بل هغه چه بی قراری کوی، سؤال کوی، دی خوا او هغه خوا ګرځی که څه شی ورته ورکړ شی خو بیا هم قرار نه کینی.

﴿ كَذَٰلِكَ سَخَّرْنَاهَا لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴾ هم داسی لکه چه وموښوده تاسی ته طریقه د ذبح کولو د هدایاؤ مسخری کړی دی مونږ دغه مذبوحی لپاره د دی چه شکر وباسئ تاسی په دی نعمت) یعنی داسی لوی ساکښان (جاندار) چه هم په جثه او هم په قوت کښی له تاسی څخه زیات دی ستاسی په واک (اختیار) او قبضه کښی درکړل شوی دی چه تاسی له هغو څخه راز راز (قسم قسم) خدمتونه اخلئ او په ډیره آسانی سره ئی حلالولی هم شئ. دا د الله تعالیٰ لوی احسان دی او ښائی چه د هغه شکر اداء کړ شی نه داسی چه د شرک په غوره کولو سره بالعکس د هغه ناشکری وکړ شی.

لَن يَنَالَ اللَّهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَاؤُهَا وَلَٰكِن يَنَالُهُ التَّقْوَىٰ مِنكُمْ ۚ

له سره نه رسیږی الله ته غوښی د دوی او نه وینی د دوی (بی له خالص نیت څخه) ولیکن رسیږی دغه (الله) ته پرهیزګاری (او اخلاص چه ملګری وی له دغو مذبوحو سره بی له ریا) له تاسی،

**تفسیر:** په دی کښی ئی د قربانی اصلی فلسفه بیان کړه یعنی یوازی د حیوان په ذبح کولو او

د غوښې په خوړلو او څښلو یا د هغه د وینې په تویولو تاسې هیڅکله د الله تعالیٰ خوښی او رضاء حاصلولی نه شئ او نه دغه غوښې او وینې او نور شیان د الله تعالیٰ تر درباره رسیدی شي بلکه د پاک الله دربار ته یوازې ستاسې د زړه تقویٰ او ادب رسیږي چه په ډیره خوښۍ، اخلاص او پوره رغبت یو قیمتي او نفیس شی د ده په حکم او اجازې سره د ده په نامه د ده کور ته بیایئ او هلته ئې قرباني کوئ! ګواکې د دې قربانۍ په وسیله مو دغه خبره ښکاره کړه چه مونږ په خپله هم ستا په لاره کښې قرباني کیدلو ته هم داسې حاضر او تیار یو! پس هم دا هغه تقویٰ ده چه د هغې ذکر په ﴿ وَمَن يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللَّهِ فَإِنَّهَا مِن تَقْوَى الْقُلُوبِ ﴾ کښې شوی دی او د هغې په وسیله د الله تعالیٰ عاشق د خپل حقیقي محبوب خوښي حاصلولی شي.

## كَذَٰلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمْ لِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَاكُمْ ۗ وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِينَ ﴿٣٧﴾

هم داسې (لکه چه ذکر شو) تابع کړي ئې دي دغه (څلور بولي) تاسې ته دپاره د دې چه په لوئي یاد کړئ الله او الله اکبر ووایئ) (د دوی د حلالولو په وخت کښې) په هغې (طریقې) سره چه لیاره ئې ښوولې ده تاسې ته او زیرې ورکړه نیکو کارانو ته (د جنت)

**تفسیر:** یعنی «بسم الله، الله اکبر، اللهم لک ومنک» ووایئ او ذبح کړئ او د الله تعالیٰ شکر ادا کړئ چه ده د خپل محبت او د عبودیت د اظهار څرنګه ښه لیار راښوولې او د یوه حیوان ذبح ئې ګواکې ستاسې د ځان د قربانۍ په ځای قایم مقام ودروله!.

## إِنَّ اللَّهَ يُدَافِعُ عَنِ الَّذِينَ آمَنُوا ۗ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٍ كَفُورٍ ﴿٣٨﴾

بیشکه چه الله دفع کوي (د کفارو مکر) له هغو کسانو څخه چه ایمان ئې راوړی دی، بیشکه چه الله نه خوښوي هر خیانتګر (له خالق او مخلوقاتو سره او) ناشکره

**تفسیر:** په ﴿ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ﴾ کښې د هغو کفارو ذکر ؤ چه مسلمانان ئې د حرم شریف له زیارت او د حج او عمرې څخه منع کول. په منځ کښې ئې د مسجدالحرام او د هغه د متعلقاتو د تعظیم او د ادب احکام بیان کړل اوس ئې بیرته هم هغه پخواني مضمون ته رجوع وکړه یعني مسلمانانو ته ډاډه او مطمئن اوسي چه الله تعالیٰ به ډیر ژر له دښمنانو څخه د دوی لاره صافه کړي او تر مسجد الحرام پورې د رسیدلو او د هغه د متعلقه احکامو په تعمیل کښې به هیڅ مخالفت او مشکلات پاتې نشي بې له کوم خوف

او خطره به دوی حج او عمره ادا کوی، گواکی د هغه بشارت امر چه په
﴿ وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِينَ ﴾ کښی ورکړی شوی ؤ د هغه يو زيری او بشارت هم دا دی.
﴿ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٍ كَفُورٍ ﴾ بيشکه چه الله تعالیٰ نه خوښوی هر خيانت گر له خالق او مخلوقاتو سره او ناشکره) يعنی که ناشکرو تگانو ته تر يوه خاص ميعاد پوری مهلت ورکړی شی نو داسی خيال مه کوئ چه دوی د الله تعالیٰ خوښيږی، دغه ډيل او مهلت په ځينو مصالحو او حکمتونو بناء دی آخری انجام او پای (آخر) به ئی هم داسی وی چه د حق خاوندان به غالب او د باطل خاوندان به مغلوب او باطل پرستان به بيخی له دی لاری څخه لری کړی شی.
کله چه مشرکانو په ډير ظلم او تيری لاس پوری کړ او خبره تر دی حده پوری ورسيده چه مؤمنان د دوی له تجاوزاتو څخه سخت په عذاب شول يو به رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وهلی شوی راته او بل به ترلی، زخمی او تپی راته او ډيره ژړا او شکوه او شکايت به ئی کاوه او ده به ورته ويل چه «صبر وکړئ چه زه لا په قتال نه يم مامور شوی او له اويا آيتونو څخه زيات د قتال په نه کولو کښی راغلی دی او سر بيره په دی د هجرت په کولو هم مامور شوی يو»
بالاخره دغه مبارک آيت راغی او د قتال اذن ئی صادر کړ او دا له هغو مبارکو آيتونو څخه ړومبنی آيت دی چه د قتال په اذن کښی راغلی دی.

أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا

حکم ورکړی شوی دی (د قتال) هغو کسانو ته چه قتال ورسره کاوه شی (د کفارو له خوا) په دی سبب چه بيشکه په دوی ظلم شوی دی،

**تفسير:** تر هغه پوری چه رسول الله صلی الله عليه وسلم په مکه معظمه کښی ؤ نو مسلمانانو ته دا حکم شوی ؤ چه د کفارو په سختيو او ربړونو (تکليفونو) باندی صبر وکړی او لاس ور ونه غځوی لکه چه مسلمانانو پوره تر ديارلسو کلونو پوری خورا (ډير) سخت ربړونه (تکليفونه) او ظلمونه وگالل (برداشت کړل) او د کفارو د زهره چوونکو ظلمونو او تيريو په مقابل کښی ئی بی‌مثاله صبر، استقامت او ثبات ښکاره کړ. کله چه منوره مدينه دارالاسلام وگرځيد او د مسلمانانو يوه وړه ډله په دغه مستقل مرکز کښی سره يو ځای شوه نو هغو مظلومو مسلمانانو ته چه کفارو به تل ورباندی ظلمونه کول او جنگونه به ئی ورسره کول اجازه ورکړی شوه بلکه حکم ورته وشو چه د دغو ظالمانو په مقابل کښی توری وکاږی! او د خپلی ډلی او مذهب حفاظت په پوره حميت سره وکړی او هم دا راز (قسم) څو آيتونه په هم دغه زمانه کښی نازل شول.

وَإِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ ﴿٣٩﴾

او بیشکه چه الله په مرسته (مدد) د دوی خامخا ښه قادر دی.

**تفسیر:** یعنی ای مؤمنانو! له خپل قلت او بی سروسامانی څخه مه داریږئ! الله تعالیٰ یوه ډیره وړوکی بی وسیلی ډله هم د دنیا د لویو لویو فوځونو او سلطنتونو په مقابل کښی بریالی (کامیاب) کولی شی. په حقیقت کښی دا په یو مالک الملکوتی طرز له مسلمانانو سره د نصرت او مرستی (مدد) وعده وه لکه چه په دنیا کښی باچایان او لوی خلق د وعدی په وخت کښی د خپل شان او وقار او استغناء ځرګندولو دپاره داسی وائی هو! مونږ ستا هغه کار کولی شو او ښائی دغه عنوان ئی ځکه غوره کړی وی څو مخاطب وپوهیږی چه مونږ په داسی کولو کښی د بل چا له طرفه نه یو مجبور شوی او هر څه چه کوو په خپل قدرت او اختیار به ئی کوو.

الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِم بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّا أَن يَقُولُوا رَبُّنَا اللَّهُ ۗ وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيرًا ۗ وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿٤٠﴾

(دغه مظلومان مهاجران) هغه (کسان) دی چه ایستل شوی دی له کورونو خپلو په ناحقه سره (او بل هیڅ سبب د اخراج نه ؤ مګر دا) چه ویل به دغو (مؤمنانو) رب زمونږ (خالص یوازی) الله دی او که چیری نه وی دفع کول د الله خلقو لره ځینی د دوی لره په ځینو نورو باندی خامخا نړولی شوی به وی تکیی او مدرسی او عبادتخانی او مسجدونه چه یاداوه شی په هغو کښی نوم د الله ډیر، او خامخا مرسته (مدد) به وکړی هرومرو (خامخا) الله له هغه چا سره چه مرسته (مدد) ورکوی (دین د) دغه (الله) ته، بیشکه چه الله خامخا قوی (د خپلو احکامو په تنفیذولو کښی) ډیر زور والا دی (په هر چا)

**تفسیر:** یعنی هغه مهاجر مسلمانان چه له خپلو کورونو څخه وویستل شول د هغوی بل هیڅ جرم نه ؤ او نه پری چا څه دعوی درلوده (لرله) پرته (علاوه) له دی نه چه دوی ولی یو الله تعالیٰ ته خپل رب وائی؟ او ولی خښتو او ډبرو ته سجدی نه کوی! ګواکی که په دوی ډیر لوی او درون الزام لګول کیږی هغه دا دی چه دوی ولی له تولو څخه جدا شوی او یوازی له یو الله تعالیٰ سره ئی د خپل عبودیت تعلقات قایم کړی دی.

﴿ وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ ﴾ او که چیری نه وی دفع کول د الله ـ الایه) یعنی که په کوم وخت او کوم حالت کښې هم یو جماعت ته د بل جماعت سره د جنګ او جګړې اجازه نه وی نو دا به د الهٰی فطرت له قانون څخه سخت مخالفت وی. پاک الله د دنیا نظام داسی پیدا کړی دی چه هر شی یا هر شخص یا هر جماعت دی د بل شی یا شخص یا جماعت په مقابل کښې د خپل وجود د ساتنی دپاره جنګ وکړی که داسی نه وی او پاک الله نیکی په خپل حمایت کښې نه ساتلی او د بدی په مقابل کښې ئې نه درولی نو د نیکی نوم او نښان به هم په جهان کښې نه وی پاتی. بی دینانو او شریرانو خلقو به چه په هره زمانه کښې په کثرت سره وی ګرد (تول) مقدس مقامات او مهم یادګارونه د تل له پاره د وجود له صفحې څخه محو او له منځه به ئې لرې کړی وی. هیڅ یو معبد، تکیه، عبادتخانه، خانقاه، مسجد او مدرسه به محفوظه نه وی پاتی شوی نو له دی کبله (وجې) ضروری شوه چه د بدی طاقتونه اګر که ډیر سره جمع هم شی خو د قدرت له طرفه به داسی یو وخت راشی چه د نیکی په مقدسو لاسونو سره به د بدی د حملی مدافعت وکړی شی او الله تعالیٰ به د خپل دین د مرستی (مدد) کوونکو سره په خپله مرسته (مدد) وکړی او دوی به د حق او صداقت په وسیله په دښمنانو غالب کړی.

بلا شبهه خدای جل جلاله داسی قوی او زبردست ذات دی چه د هغه د اعانت او مرستی (مدد) په اثر خورا (زیات) ډیر ضعیف موجود ډیرو لویو لویو طاقتونو ته هم ماتی ورکولی شی په هر حال په دغه وخت کښې مسلمانانو ته د ظالمو کفارو په مقابل کښې د جهاد او قتال اجازت ورکول د قدرت د هم دی قانون لاندی وو او دا هغه عام قانون دی چه تری هیڅ عقلمن انکار نشی کولی، که د مدافعت او حفاظت دغه قانون نه وی نو په خپله خپله زمانه کښې به نه د عیسائی راهبانو صومعی (حجری) ودانی پاتی وی او نه به د نصرانیانو بیع (کلیساګانی) او نه به د یهودیانو صلوات (عبادت خانی) او نه به د مسلمانانو هغه مساجد چه د الله تعالیٰ ذکر پکښې ډیر زیات کیږی پاتی وی او دغه تول معابد به نړول شوی او له منځه تللی وی، نو د دی عام قانون لاندی هیڅ داسی دلیل نشته چه مسلمانانو ته په یو مناسب وخت کښې د دوی د دښمنانو سره د جنګیدلو اجازه ورنه کړی شی.

---

ٱلَّذِينَ إِن مَّكَّنَّٰهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ أَقَامُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُا۟ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَمَرُوا۟ بِٱلْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا۟ عَنِ ٱلْمُنكَرِ ۗ وَلِلَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلْأُمُورِ ﴿٤١﴾

---

(دغه مهاجر مظلومان) هغه کسان دی چه که چیری قدرت ورکړو مونږ دوی ته په ځمکه کښې (په دښمن باندی د غلبی په اعتبار) نو قائموی دوی (سم اداء کوی به سره له تولو حقوقو) لمونځ او ورکوی به زکوٰة او امر حکم به کوی (خلقو ته) په معروف (په نیک شرعی کار) سره او منع کوی به (خلق) له

بد کار څخه او خاص د الله په اختیار کښې ده آخره خاتمه د تولو کارونو.

**تفسیر:** دا یوازې د هغو مسلمانانو بیان دی چه پرې ظلمونه شوی دی او له کورونو څخه ایستل شوی دی یعنی الله تعالیٰ به ولی له دوی سره مرسته (مدد) نه کوی؟ کله چه دوی داسې یو قوم دی چه که الله تعالیٰ دوی ته د ځمکی د مخ سلطنت هم ورکړی خو بیا هم دوی د الله تعالیٰ له یاده نه غافلیږی او په خپله هم په بدنی او مالی نیکیو کښې مصروف دی او کوشش کوی چه نور هم په هم دغه سمه لاره برابر کړی لکه چه پاک الله دوی ته د دی ځمکی حکومت ورکړ او کومې پیشگوئی چه پخوا شوی وی هغه تکی په تکی رښتیا شوی «**فلله الحمد علیٰ ذلک**» له دی آیت څخه د اصحاب الکرام رضی الله تعالیٰ عنهم خصوصاً د مهاجرینو او په هغو کښې په اخص الخصوص د راشدینو خلفاؤ رضوان الله تعالیٰ علیهم اجمعین حقانیت، مقبولیت او منقبت ثابت شول.

﴿ وَلِلّٰهِ عَاقِبَةُ الْاُمُوْرِ ﴾ او خاص د الله تعالیٰ په اختیار کښې ده آخره خاتمه د تولو کارونو) یعنی که څه هم نن مسلمانان کمزوری او کفار غالب او قوی ښکاری لیکن دغه کار د الله تعالیٰ په واک (قبضه) او اختیار کښې دی چه بالاخر مسلمانان په دوی غالب، منصور او بریالی (کامیاب) کړی یا ئی دا مطلب چه هم دغه امت به د الله تعالیٰ دین تر یوی مودی پوری قایم ساتی بیا خدای جل جلاله عالم دی.

وَاِنْ يُّكَذِّبُوْكَ فَقَدْ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوْحٍ وَّعَادٌ
وَّثَمُوْدُ ﴿۴۲﴾ وَقَوْمُ اِبْرٰهِيْمَ وَقَوْمُ لُوْطٍ ﴿۴۳﴾ وَّاَصْحٰبُ مَدْيَنَ ۚ وَكُذِّبَ
مُوْسٰى فَاَمْلَيْتُ لِلْكٰفِرِيْنَ ثُمَّ اَخَذْتُهُمْ ۚ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿۴۴﴾

او که چیری دروغجن کړی دغه کار تا (ای محمده! نو مه خفه کیږه) پس په تحقیق دروغجن کړی ئی وو (رسولان خپل) پخوا له دغه (قوم ستا) قوم د نوح (نوح لره) او (قوم د) عاد او (قوم د) ثمود او قوم د ابراهیم او قوم د لوط (انبیاؤ خپلو لره) او اهل (د ښار) د مدین (شعیب لره) او دروغجن گڼل شوی ؤ موسیٰ (د مصری قبطیانو له خوا) نو مهلت می ورکړی ؤ کافرانو ته بیا (ناڅاپه) ومی نیول دوی (په عذاب سره) پس څرنگه ؤ انکار زما (په دوی په تغیر د نعمت سره)

**تفسیر:** یعنی هغه وعده چه د مسلمانانو د نصرت او غلبی دپاره ورکول کیږی نه ښائی چه کفار

د خپل موجوده کثرت او قوت له کبله (وجې) مغرور شي او د هغو تکذیب وکړي ځکه دا د الله تعالیٰ مهلت او فرصت دی.
پخوانی اقوام هم د الله تعالیٰ په موقتي (څو ورځنی) مهلت ورکولو وغولیدل او د خپلو انبیاؤ تکذیب ئې وکړ، بیا څه مهال (وخت) چه هغوی ونیول شول نو وګورئ چه د هغوی حال څه شو؟ او له کوم عذاب سره مخامخ شول؟ چه په دغه وروستني آیت کښې د هغه تفصیل راغلی دی.
او له کوم عذاب څخه چه الله تعالیٰ دوی ویرولي وو نو د دوی د شرارتونو او انکار له امله (وجې) دوی څرنګه د هغه سره مخامخ شول؟ چه په دغه وروستني آیت کښې د هغه تفصیل راغلی دی.

---

فَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ فَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا وَبِئْرٍ مُّعَطَّلَةٍ وَقَصْرٍ مَّشِيدٍ ﴿۴۵﴾

---

پس ډیر دی له کلیو (او ښارونو) څخه چه هلاک کړی دی مونږ (اهل د) هغو حال دا چه دغه (اهل د هغی قریې) ظالمان وو (په نفسونو خپلو) پس هغه (کلی) پریوتلي دي (دیوالونه ئې د پاسه) په چتونو بامونو خپلو باندې او ډیر کوهیان دي چه (ډک له اوبو) بیکاره پراته دي او ډیرې ماڼې پخې لوړې (وچتې) (تشې پاتې دي او خاوندان ئې هلاک شوي دي)

---

**تفسیر:** یعني د خپلو بنستونو (بنیادونو) د خوځیدلو په اثر اول ئې چتونه ولویدل، بیا ئې دیوالونه ونړیدل بیا ګردي (تولي) ودانۍ پرې راولویدې او د چت ډیرې ئې لا اوچتې کړې. دا ئې د هغو د لاندې باندې کیدلو صورت وښود.
﴿وَبِئْرٍ مُّعَطَّلَةٍ﴾ او ډیر کوهیان دي چه ډک له اوبو بیکاره پراته دي) یعني هغه کوهیان چه پرې به د اوبو د راویستونکو هجوم او ګڼه ګونه وه نن هلته هیڅوک نشته چه د هغو بوکې راوکاږي او هغه ډیرې لوړې لوړې او پخې او هسکې ودانۍ چه په چونه، سیمټو او نورو پخو موادو سره ودانې شوې وې خرابې او د ورانو کنډرو په شان پرتې دي او هیڅوک پکښې نه اوسیږي.

---

أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَتَكُونَ لَهُمْ قُلُوبٌ يَعْقِلُونَ بِهَا أَوْ آذَانٌ يَسْمَعُونَ بِهَا ۖ فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى الْأَبْصَارُ وَلَٰكِن تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ ﴿۴۶﴾

آیا پس نه دی گرځیدلی دوی (دغه کفار) په ځمکه کښی پس وی دوی لره زړونه چه فکر ئی کولی په هغو (زړونو سره په بده خاتمه د کارونو) یا (وی دوی لره) غوږونه چه خبری ئی اوریدلی دوی په هغو (غوږونو سره د کفارو د اهلاک چه عبرت پری واخلی) پس قصه دا ده چه نه دی ړندی ستر گی (ظاهری د دوی) ولیکن ړانده دی زړونه ( د دوی) هغه چه دننه په سینو د دوی کښی دی (ځکه چه پری عبرت نه اخلی).

**تفسیر:** یعنی د دغو ورانو او تباه شوو ودانیو د کنډرو د لیدلو څخه هم هیڅکله دوی ته داسی یو فکر او چرت (خیال) پیدا نشو او غور او اندیښنه ئی ونه کړه چه د حق په لاره راشی او په رښتیا خبره وپوهیږی او زړونه ئی بینا او غوږونه ئی خلاص شی.
(پس قصه دا ده چه نه دی ړندی ظاهری ستر گی د دوی ولیکن ړانده دی زړونه د دوی) یعنی که په ستر گو ئی ولیدل خو پخپلو زړونو کښی ئی پری غور او فکر ونه کړ نو دغه لیدل هم د نه لیدلو په شان دی. گواکی د دوی ظاهری ستر گی خلاصی دی مگر باطنی ستر گی ئی ړندی دی او په حقیقت کښی ډیر خطرناکه مرض د زړه ړوندوالی دی! (العیاذ بالله)

وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالْعَذَابِ وَلَن يُخْلِفَ اللَّهُ وَعْدَهُ وَإِنَّ يَوْمًا عِندَ رَبِّكَ كَأَلْفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ ﴿٤٧﴾

او بیړه (تلوار) کوی (کفار) په تا په (راوستلو د) عذاب او له سره به خلافه نه کړی الله وعده خپله، او بیشکه یوه ورځ په نزد د رب ستا (له ورځو د آخرت، اوږده ده) لکه زر کاله له هغو کلونو څخه چه شمیرئ ئی تاسی (په دنیا کښی)

**تفسیر:** یعنی مقرر عذاب په خپل ټاکلی (مقرر کړی) وخت هرومرو (خامخا) راتلونکی دی او دغه بی ځایه شورماشور، استهزاء او تکذیب او د عذاب ژر غوښتل هیڅ یوه گټه (فائده) نه لری. «بیشکه یوه ورځ په نزد د رب ستا له ورځو د آخرت چه ورځی د عذاب د کفارو دی اوږده ده لکه زر کاله له هغو کلونو څخه چه شمیرئ ئی تاسی په دنیا کښی» یعنی ستاسی یو زر کلونه د ده په نزد د یوی ورځی سره برابر دی لکه چه نن مجرمین د ده په واک (قبضه) او اختیار کښی دی د زرو کلونو د تیریدلو څخه وروسته هم داسی د ده په قبضه او اختیار کښی دی. هیڅ چیری تری پټیدلی او تښتیدلی نه شی. یا مطلب دا چه دی د زرو کلونو کار په یوه ورځ

کښې کولی شي. مګر داسې کول چه د ده د حکمت او مصلحت سره موافق وی، د چا ژر غوښتل او شور و شر کول د ده په دربار کښې هیڅ تاثیر نه لری. یا دی داسې وویل شي چه د اخروی عذاب وعده ضرور راتلونکې ده یعنې قیامت راځی او تاسی ته به پوره سزا درکړی شي. وروسته د قیامت د ورځې بیان وشو چه هغه یوه ورځ به د خپل شدت او هول په لحاظ د زرو کلونو سره برابره وی بیا ولې تاسی د داسې سخت لوی مصیبت په غوښتلو کښې تلوار کوئ؟.

وَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ أَمْلَيْتُ لَهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ ثُمَّ أَخَذْتُهَا وَإِلَيَّ الْمَصِيرُ ﴿٤٨﴾

او ډیر دی له (اهل د پخوانیو ښارونو او) کلیو چه مهلت ورکړی ؤ ما دوی ته (په خپل رحمت سره) حال دا چه (اهل د هغو) ظالمان وو بیا ونیول ما هغه (ناڅاپه په سخت عذاب) او خاص ماته راتله د هر چا دی (په آخرت کښې د جزاء له پاره).

**تفسیر:** یعنې آیا په مهلت ورکولو به هغوی چیری وتښتی؟ یا به په کوم ځای کښې پټ شي بالاخر د تولو رجوع او بیرته راتګ زمونږ په لوری دی، مونږ دوی تول ونیول او تباه مو کړل.

قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّمَا أَنَا لَكُمْ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٤٩﴾

ووایه (ای محمده!) ای خلقو بیشکه هم دا خبره ده چه زه تاسی ته ویروونکی یم ښکاره (له جحیم څخه).

**تفسیر:** یعنې زما کار خبرول او ویرول دی څو تاسی د فضائلو غوښتونکی او له رذائلو څخه په ډډه شئ د عذاب نازلول زما په اختیار کښې نه دی او هغه د الله تعالیٰ په اختیار کښې دی هغه به د مطیع او عاصی په منځ کښې فیصله وکړی او هر یو به د هغه له حال سره سم مناسب ځای ته ورسوی.

فَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴿٥٠﴾

پس هغه کسان چه ایمان ئې راوړی دی او کړی ئې دی ښه (عملونه) شته دوی

ته ښښنه (د ګناهونو) او روزی عزتناکه ( چه جنت دی).

**تفسير:** يعنی په جنت کښې به ميوی او غوره غوره شيان او دول دول (قسم قسم) نعمتونه او د الله تعالیٰ ديدن د مؤمنانو په برخه شي.

وَالَّذِينَ سَعَوْا فِي آيَاتِنَا مُعَاجِزِينَ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ ﴿٥١﴾ وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ وَلَا نَبِيٍّ إِلَّا إِذَا تَمَنَّىٰ أَلْقَى الشَّيْطَانُ فِي أُمْنِيَّتِهِ فَيَنسَخُ اللَّهُ مَا يُلْقِي الشَّيْطَانُ ثُمَّ يُحْكِمُ اللَّهُ آيَاتِهِ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٥٢﴾

او هغه کسان چه کوشش کوی په (بطلان د ) آيتونو زمونږ کښې په داسی حال کښې چه عاجز کوونکی زمونږ وی ( د دوی پخپل ګومان) هم دغه کسان ملګری د دوزخ دی (چه تل به پکښې سوځی). او نه ؤ ليږلی مونږ پخوا له تا (ای محمده !) هيڅ رسول او نه هيڅ نبی مګر په هغه وخت کښې چه لوستل به ئی کول نو وبه غورځاوه شيطان په لوستلو د ده کښې له ځانه خپله پس لری کوی الله هغه کلمی چه غورځولی دی شيطان بيا محکموی الله آيتونه خپل او الله ښه عالم (په ټولو احوالو) ښه حکمت لرونکی دی (چه هر کار په تدبير او مصلحت سره کوی).

**تفسير:** د آيت په تفصيل کښې اختلاف دی. محقق مترجم قدس الله روحه په دی ترجمه کښې چه «کله چه لګيا شو په خيال ترلو، نو شيطان ګډ کړل د ده په خيال کښې» د خپل امام حضرت شاه عبدالقادر رحمة الله عليه رويه اختيار کړی ده چه هغی ته حضرت شاه ولی الله قدس سره هم د «**حجة الله البالغه**» په آخر کښې اشاره کړی ده. حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه په «موضح القرآن» کښې ليکی «نبی ته يو حکم يا يو خبر چه د الله تعالیٰ له طرفه راځی په هغه کښې هيڅکله د يوی ذری په قدر هم څه تفاوت نشی واقع کيدی. او يو د نبی د زړه خيال د رائی اجتهاد دی هغه کله موافق راځی او کله نه. لکه چه حضرت رسول الله صلی الله عليه وسلم خوب ليدلی ؤ او د انبياؤ خوب وحی وی چه دی له منوری مدينی څخه مکی معظمی ته لاړ او عمره ئی وکړه، دا ئی په خيال کښې وروګرځيده چه ښائی هم دغه سږ کال به هم داسی وشی. لکه چه د عمری په نيت ئی سفر شروع کړ، ليکن په منځ کښې د کفارو له لاسه په حديبيه

کښې د احرام په خلاصولو مجبور شو او په بل کال کښې ئې د خوب تعبیر پوره شو. یا وعده وشوه چه په کفارو به غلبه ومومئ، په خیال کښې ئې داسې وګرځیده چه ښائې دغه بری به په هم دغه جنګ کښې وی خو په هغه کښې ونه شو او په بل کال کښې واقع شو بیا الله تعالیٰ دغه وربښکاره کړه چه ځومره احکام او وعدې چه شوی دی په هغو کښې د سر د یوه ویښته په اندازه هم مخالفت نه واقع کیږی هو! د نبی په ذاتی خیال او اجتهاد کښې تفاوت واقع کیدی شی اګر که نبی له اصل پخوا ویلو او پیشګوئی سره خپل ذاتی خیال نه ګدوه بلکه هر یو به ئې بیل بیل خوروه، باقی په دی صورت کښې به د (القاء) نسبت شیطان ته داسې وی لکه چه په ﴿وَمَآأَنسَىٰنِيهُ إِلَّا ٱلشَّيْطَٰنُ أَنْ أَذْكُرَهُۥ﴾ کښې د (انساء) نسبت هغه ته کړی شوی دی والله تعالیٰ اعلم.

د دی احقر په نزد دیر بهتر او خورا (دیر) آسان تفسیر هغه دی چه د هغه مختصر اصل له اسلافو ځخه منقول دی یعنی (تمنی) د قرائت او تلاوت یا تحدیث او (امنیت) د متلو یا حدیث په معنی واخیستل شی. مطلب دا چه له قدیم راهیسی دغه عادت جریان لری کله به کوم نبی یا رسول علیه السلام کومه خبره بیانوله یا به ئې د الله تعالیٰ آیتونه اورول شیطان به د ده په خبرو یا آیتونو کښې د خلقو په زړه کښې راز راز (قسم قسم) شبهې او وسوسې اچولی. یعنی د ځینو خبرو په متعلق به ئې د دیرو خلقو په زړونو کښې دول دول (قسم قسم) وسوسې غورځولی او رنګا رنګ شکونه او شبهې به ئې پیدا کولی مثلاً رسول الله صلی الله علیه وسلم د ﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ ٱلْمَيْتَةُ﴾ آیت ولوست شیطان د خلقو په زړونو کښې دا شبهه واچوله چه وګورئ د خپل لاس وژل شوی حیوان حلال بولی او خدای وژلی حرام ګنی؟ یا چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه آیت ولوست ﴿إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ﴾ شیطان پکښې داسې شبهه وغورځوله چه په ﴿وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ﴾ کښې ملائکة الله، مسیح او عزیر علیهم السلام هم شامل دی یا کله چه حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم د مسیح علیه السلام په نسبت د ﴿وَكَلِمَتُهُۥٓ أَلْقَىٰهَآ إِلَىٰ مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِّنْهُ﴾ آیت ولوست شیطان د خلقو په افکارو کښې داسې مفکوره پیدا کړه چه له دی نه د حضرت مسیح علیه السلام ابنیت او الوهیت ثابتیږی. د دغه شیطانی القاء په ابطال او تردید کښې حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالیٰ هغه بینات آیتونه واورول چه بیخی صاف او محکم وو او داسې پخې خبری ئې وروښودی چه د هغو له اوریدلو ځخه شک او شبهې ته له سره ځای او موقع پاتی نه شوه، ګواکی د «متشابهاتو» د ظاهری سطحی په بناء کومه اغواء او اخلال چه شیطان ئې غورځوی آیات محکمات د هغه بیخ او بنیاد وباسی چه د هغو د اوریدلو ځخه تول شکونه او شبهې له منځه ورک او فنا کیږی. دا دوه قسمه آیتونه ولی نازلولی شی؟ شیاطینو ته د دومره وسوسې اچولو او تصرف موقع ولی ورکوله کیږی؟ او د داسې آیتونو هغه احکام چه وروسته توضیح کیږی ولی په ابتدا کښې نه تشریح کیږی؟ دغه ګرد (تول) امور د الله تعالیٰ له غیر محدود علم او حکمت ځخه نشئت کوی، الله تعالیٰ دا دنیا علماً او عملاً دارالامتحان ګرځولی ده، لکه چه په داسې چارو سره د بندګانو آزموینت کوی چه ځوک د خپل زړه د ناروغتیا یا د سختی له سببه د شکونو او د شبهو په

ختنو او جبو کښې نښلي؟ او کوم پوه او عقلمن انسان د خپل علم او تحقيق په قوت د ايمان، ايقان او اخبات لوړ (اوچت) مقام ته رسيږي؟ رښتيا خبره خو دا ده که انسان په ښه نيت او ايمان داري او ښه عقيده سره پوهيدل وغواړي نو پاک الله هم د ده مرسته (مدد) کوي او په سمه لاره ئې بيائي او ثبات او استقامت وربه برخه کوي، پاتې شول منکرين او شک کوونکي هغوی ته تر قيامته پورې هم داډ او اطمينان نه شي حاصليدلی.

(هر چه گيرد علتی علت شود)

زمونږ په دی تقرير کښې تر ډيره حده پورې د ډيرو آيتونو مطلب بيان شو، پوه خلق کولی شي چه زمونږ د دی تقرير اجزاء د هغو ايتونو له اجزاؤ سره بی تکلفه تطبيق کړی دا آيتونه لکه چه مونږ د (آل عمران) د سورت په ابتدا کښې بيان کړی دی له ﴿ هُوَالَّذِيٓ اَنۡزَلَ عَلَيۡكَ الۡكِتٰبَ مِنۡهُ اٰيٰتٌ مُّحۡكَمٰتٌ ﴾ الآية - سره ډير مشابه دی لکه چه په ﴿ اِلَّآ اِذَا تَمَنّٰٓى اَلۡقَى الشَّيۡطٰنُ فِيٓ اُمۡنِيَّتِهٖ ﴾ کښې د متشابهاتو او په ﴿ ثُمَّ يُحۡكِمُ اللّٰهُ اٰيٰتِهٖ ﴾ کښې د محکماتو ذکر وشو او په ﴿ لِيَجۡعَلَ مَا يُلۡقِي الشَّيۡطٰنُ فِتۡنَةً ﴾ الآية - کښې د زائغينو دوه قسمونه بيان شول چه په هغو کښې د ﴿ لِّلَّذِيۡنَ فِيۡ قُلُوۡبِهِمۡ مَّرَضٌ ﴾ کار د تاويل ابتغاء او د ﴿ وَّالۡقَاسِيَةِ قُلُوۡبُهُمۡ ﴾ غرض د فتنې ابتغاء ده. وروسته ﴿ وَّلِيَعۡلَمَ الَّذِيۡنَ اُوۡتُوا الۡعِلۡمَ ﴾ الآية - د ﴿ وَالرّٰسِخُوۡنَ فِي الۡعِلۡمِ يَقُوۡلُوۡنَ ﴾ د آيت په ځای وګڼئ! او هلته هغه دعا چه په ﴿ رَبَّنَا لَا تُزِغۡ قُلُوۡبَنَا بَعۡدَ اِذۡ هَدَيۡتَنَا ﴾ سره کړی شوی وه دلته د هغی د اجابت ذکر په ﴿ وَاِنَّ اللّٰهَ لَهَادِ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡٓا اِلٰى صِرَاطٍ مُّسۡتَقِيۡمٍ ﴾ سره کړی شوی دی او د ﴿ رَبَّنَآ اِنَّكَ جَامِعُ النَّاسِ لِيَوۡمٍ لَّا رَيۡبَ فِيۡهِ ﴾ سره دغه آيت مناسب واقع شو ﴿ وَلَا يَزَالُ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا فِيۡ مِرۡيَةٍ مِّنۡهُ حَتّٰى تَاۡتِيَهُمُ السَّاعَةُ ﴾ الیٰ قوله ﴿ يَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ ﴾

**تنبيه:** مفسرانو چه د دی آيت لاندی د (غرانيق) قصه ذکر کړی ده د هغی د بحث موقع دلته نشته. ښائی چه د (النجم) په سورت کښې د هغی په نسبت د څه ليکلو موقع راشي، مونږ د صحيح مسلم په شرح کښې په دی په ډير ښه بسط سره خبری کړی دی، په هر حال د آيت مطلب د اسلافو د تفصيل سره موافق بالکل صاف دی ګواکی دا د ﴿ وَالَّذِيۡنَ سَعَوۡا فِيۡٓ اٰيٰتِنَا مُعٰجِزِيۡنَ ﴾ د آيت تفصيل دی چه په هغه کښې د آيات الله د ابطال په باب د کفارو د سعی ذکر ؤ.

لِيَجۡعَلَ مَا يُلۡقِي الشَّيۡطٰنُ فِتۡنَةً لِّلَّذِيۡنَ فِيۡ قُلُوۡبِهِمۡ مَّرَضٌ وَّالۡقَاسِيَةِ قُلُوۡبُهُمۡ ؕ وَاِنَّ الظّٰلِمِيۡنَ لَفِيۡ شِقَاقٍۢ بَعِيۡدٍ ۙ﴿۵۳﴾ وَّلِيَعۡلَمَ الَّذِيۡنَ اُوۡتُوا الۡعِلۡمَ اَنَّهُ الۡحَقُّ مِنۡ رَّبِّكَ فَيُؤۡمِنُوۡا بِهٖ فَتُخۡبِتَ لَهٗ

قُلُوبُهُمْ ۗ وَإِنَّ اللَّهَ لَهَادِ الَّذِينَ آمَنُوا إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٥٤﴾

دپاره د دی چه وګرځوی (الله) هغه شی چه غورځوی ئی شیطان ازمویښت دپاره د هغو کسانو چه په زړونو د دوی کښی مرض (د شک او نفاق) دی او (بل دپاره د هغو چه) سخت دی زړونه د دوی، او بیشکه ظالمان خامخا په مخالفت ډیر لری کښی دی (له حقه). او (دغه القاء د دی دپاره ده چه) په یقین سره پوه شی هغه کسان چه ورکړی شوی دی دوی ته علم چه بیشکه دا قرآن حق دی له طرفه د رب ستا پس ایمان به راوړی دوی په ده سره نو نرم (آرام به شی انقیاداً) دغه قرآن ته زړونه د دوی، او بیشکه الله خامخا لاره ښوونکی دی هغو کسانو ته چه ایمان ئی راوړی دی طرف د سمی صافی لاری (د اسلام) ته.

**تفسیر:** په موضح القرآن کښی راغلی دی «یعنی په دی ګمراهان لا ګمراه کیږی چه د هغوی کار ګمراهی ده او د ایمان خاوندان لا زیات ټینګ او مضبوطیږی چه په دغه کلام کښی بنده ته هیڅ د مداخلی ځای نشته او که وی نو دغه به هم د بنده د خیال په شان کله صحیح او کله غلط وی د هر چا نیت چه په ښه اعتقاد وی هغه ته الله تعالیٰ دا خبره ورښیی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه دا فائده له خپل ذوق سره سمه لیکلی ده، زمونږ خیال هغه دی چه په تیره فائده کښی مو لیکلی دی. والله اعلم

وَلَا يَزَالُ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي مِرْيَةٍ مِّنْهُ حَتَّىٰ تَأْتِيَهُمُ
السَّاعَةُ بَغْتَةً أَوْ يَأْتِيَهُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيمٍ ﴿٥٥﴾

او تل به وی هغه کسان چه کافران شوی دی په شک کښی له دی (قرآنه یا له سمی لاری یا له رسوله) تر هغه وخت پوری چه راشی دوی ته قیامت ناڅاپه یا راشی دوی ته عذاب د ورځی شندی (سختی د قیامت چه د نجات هیڅ لاره پکښی نه وی)

**تفسیر:** یعنی مقصد په خپله د قیامت د هولناکی حادثی ناڅاپی رارسیدل یا د قیامت د عذاب راتلل دی او یا شاید د ﴿عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيمٍ﴾ څخه د دنیا عذاب مراد وی یعنی په هم دی دنیا کښی به داسی سزا درکړه شی چه په هیڅ صورت به ورڅخه خلاصیدل امکان ونه لری.

اَلْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ لِّلّٰهِ ؕ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ ؕ

ملک سلطنت په دغه ورځ د قیامت خاص الله ته دی، فیصله به کوی (په دغه ورځ کښې) په منځ د دوی (د مؤمنانو او کافرانو کښې)

**تفسیر:** یعنی د قیامت په ورځ کښې به یوازې د الله تعالیٰ سلطنت او حکومت وی او د بل هیچا ظاهری او مجازی د حکومت نوم او نښان به نه وی په هغه وخت کښې به د ګردی (تولی) دنیا عملی فیصله کیږی چه تفصیل ئی دا دی.

فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿۵۶﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا
وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا فَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿۵۷﴾ وَالَّذِيْنَ
هَاجَرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ثُمَّ قُتِلُوْٓا اَوْ مَاتُوْا لَيَرْزُقَنَّهُمُ
اللّٰهُ رِزْقًا حَسَنًا ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿۵۸﴾
لَيُدْخِلَنَّهُمْ مُّدْخَلًا يَّرْضَوْنَهٗ ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَعَلِيْمٌ حَلِيْمٌ ﴿۵۹﴾

پس هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه) په جنتونو د نعمتونو کښې به وی. او هغه کسان چه کافران شوی دی او نسبت د دروغو ئی کړی دی آیتونو زمونږ ته پس دغه کسان شته دوی ته عذاب سپکوونکی او هر هغه کسان چه خپل کورونه ئی پریښی دی په لاره د الله کښې (د جهاد، طاعت او د الله د رضاء له پاره) بیا ووژلی شی (په جهاد کښې) یا مړه شی (پخپل مرګ) نو خامخا روزی به ورکړی هرومرو (خامخا) دوی ته الله روزی نیکه (د جنت)، او بیشکه الله خامخا هم دی غوره د (تولو) روزی ورکوونکو دی. خامخا داخل به کړی (الله) هرومرو (خامخا) دوی په داسی یو ځای (د جنت) کښې چه خوښ به کړی دوی هغه (ځایونه د جنتونو)، او بیشکه الله خامخا ډیر عالم (په تولو احوالو) ښه حلم لرونکی دی (په تاخیر د عقوبت لپاره د رجوع).

**تفسیر:** د مؤمنانو انجام ئې ښخوا ښودلې ۇ دلته ئې له هغو شخه د یوی ممتازی ډلې ذکر په خصوصی ډول (طریقه) سره وکړ یعنی هغه خلق چه د الله تعالیٰ په لاره کښې خپل کور، کهول پریښې او تری تللی وی که په جنګ کښې شهیدان شي یا په خپل طبیعی مرګ سره ومری په دواړو صورتونو کښې به د الله تعالیٰ له طرفه ورته خاصه میلمستیا ورکوله کیږی، د دوی خوړل، څښل او اوسیدل به تول د دوی په خوښه او مرضی سره وی او الله جل جلاله ښه پوهیږی چه دوی په کومو کومو شیانو خوښ او راضی کیږی؟ او په دی هم ښه پوهیږی چه کومو کومو کسانو خالص د ده په لیاره کښې خپل کور، کهول او نور ترک کړی دی. د داسی مهاجرینو او مجاهدینو په خطاگانو باندی به حق تعالیٰ تحمل کوی او د خپلی عفوی له شان څخه به کار اخلی. د «علیم» او «حلیم» صفات ئې ځکه ذکر کړل چه پاک الله ته تول شیان ښه معلوم دی او هغه کسان هم ښه ورمعلوم دی چه هغوی د ده داسی مخلصو بندګانو ته داسی ربړونه (زحمتونه) او تکلیفونه رسولی دی چه هغوی له مجبورتیا خپل کور، کهول پریښې دی لیکن د خپل حلم او تحمل له امله (وجی) دغو ظالمانو ته سم لاسی سزا نه ورکوی.

ذٰلِكَۚ وَمَنْ عَاقَبَ بِمِثْلِ مَا عُوقِبَ بِهِۦ ثُمَّ بُغِيَ عَلَيْهِ لَيَنصُرَنَّهُ ٱللَّهُۗ

(خبره) هم دا ده (لکه چه ومو ویله) او هر هغه چه بدل واخیست په مثل د هغه (ضرر) چه معذب شوی دی په هغه سره بیا (دوهم ځل) ظلم وکړ شي په ده باندی نو خامخا مرسته (مدد) به وکړی هرومرو (خامخا) له ده سره الله،

**تفسیر:** یعنی که مظلوم له ظالم شخه واجبی بدل واخلی بیا ظالم پری بل ځلی ظلم وکړی نو دی بیا هم مظلوم واقع شو او الله تعالیٰ به بیا ورسره مرسته (مدد) وکړی لکه چه عادت ئې دی بالاخر د مظلومانو حمایت کوی **«واتق دعوة المظلوم فانه لیس بینها و بین الله حجاب»**

بترس ازآه مظلومان که هنگام دعا کردن

اجابت از در حق بهر استقبال می آید

إِنَّ ٱللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ ۝٦٠

بیشکه الله خامخا ښه عفو کوونکی دی (د تجاوزاتو) ډیر ښښونکی دی (د خطیاتو)

**تفسیر:** یعنی بندګانو ته هم ښائی چه پخپلو شخصي او معاشرتی چارو او معاملاتو کښی د عفوی او ښښنی عادت زده کړی او هیڅکله دی د انتقام او بدل اخیستلو په فکر نه اوسی.
حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «یعنی واجبی بدل اخیستونکی ته الله تعالیٰ عذاب نه ورکوی که څه هم بدل (کسات) نه اخیستل ښه او غوره کار دی. د کفارو د اذیت بدل مسلمانانو له کفارو څخه د «بدر» په غزا کښی واخیست لیکن کفارو بیا په «احد» او «احزاب» کښی په تیری او تجاوز لاسونه پوری کړل چه بیا الله تعالیٰ مسلمانانو سره پوره مرسته (مدد) وکړه.

ذٰلِكَ بِأَنَّ اللّٰهَ يُوْلِجُ الَّيْلَ فِى النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ فِى الَّيْلِ وَأَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ ﴿٦١﴾

دغه (نصرت په سبب د دی دی) چه بیشکه الله ننه باسی شپه په ورځ کښی او ننه باسی ورځ په شپه کښی (چه کله ورځ لنډه شپه اوږدوی کله شپه لنډه ورځ اوږدوی) او بیشکه الله ښه اوریدونکی دی (د ټولو اقوالو) ښه لیدونکی دی (عالم په ټولو اشیاؤ).

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ د دومره لوی قدرت او قوت خیښتن (مالک) دی چه د شپی او ورځی اړول او راړول او د هغوی لنډول او اوږدول د ده د قدرت په لاس کښی دی او یوازی د ده په حکم، اراده او تصرف کله ورځ اوږدیږی او کله شپه اوږدیږی نو آیا دغه مطلق قادر په دی باندی نه دی قادر چه یو مظلوم قوم یا شخص سره مرسته (مدد) وکړی او د ظالمانو له منګلو څخه ئی خلاص کړی؟ بلکه دوی په هغوی باندی غالب، قاهر، قادر او مسلط کړی. مخکښی د مهاجرو مسلمانانو ذکر ؤ په دی آیت کښی ئی دی ته اشاره وکړه چه حالات ډیر ژر د شپی او ورځی په شان بدلیدونکی دی څرنګه چه پاک الله د شپی تیاره د ورځی په رڼا (رنړا) له منځه وړی، هم داسی به د کفر او شرک ځمکی هم د اسلام په غیږ کښی ورکړی. او بیشکه چه پاک الله ښه اوریدونکی دی د ټولو اقوالو، ښه لیدونکی عالم دی په ټولو اشیاؤ یعنی د مظلوم غږ او آواز هم اوری او د ظالم چاری او اعمال هم وینی.

ذٰلِكَ بِأَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ هُوَ الْبَاطِلُ وَأَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْعَلِىُّ الْكَبِيْرُ ﴿٦٢﴾

دغه (مرسته (مدد) په دی ده چه) بیشکه الله هم دی دی حق ثابت او بیشکه
هغه چه بولي ئی (کفار او عبادت ئی کوی) بی له الله څخه هم دغه باطل دی
او بیشکه الله هم دی (له تولو څخه) ښه لوړ (وچت) ښه لوی دی

**تفسیر:** یعنی له الله څخه پرته (علاوه) داسی عظیم الشان کارونه او انقلابونه د بل چا له لاسه پوره کیدی شی؟ بلکه نه شی په واقع کښی صحیح او رښتینی برحق معبود هم دغه یو الله تعالیٰ دی نور تول معبودان بیخی غلط او له یوه سره زائل او تول باطل دی. ښائی چه تاسی هم دغه واحد لا شریک ذات خپل الله وګڼئ. چه له تولو څخه اعلیٰ او اولیٰ او ډیر ښه مولیٰ دی او دغه لوی شان په اتفاق سره د هم دغه یو الله جل و علا شانه په ذات او صفاتو کښی شته.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَتُصْبِحُ الْأَرْضُ مُخْضَرَّةً ۗ إِنَّ اللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ ﴿٦٣﴾

آیا نه وینی ته (نه ئی خبر ای مخاطبه) چه بیشکه الله نازلی کړی دی له
(طرفه د) آسمان څخه اوبه پس ګرځی ځمکه (په دی اوبو سره) تکه شنه
(پس له هغه چه وچه سپیره وه) بیشکه الله ښه مهربان عالم دی په پټو تدابیرو
ښه خبردار دی (په تولو شیونو)

**تفسیر:** یعنی هم داسی به د کفر او شرک وچه او شاړه ځمکه د اسلام په باران باندی شنه او سمسوره کړی. او هم هغه خدای جل جلاله ښه پوهیږی چه په څه شان د باران د اوبو په وسیله شینکی او نباتات زرغونیږی. د ده قدرت د ځمکی په دننه کښی داسی تدبیر او تصرف کوی چه د هغه په اثر وچه شاړه ځمکه د اوبو او نورو اجزاء ځان ته جذب او راکاږی چه په دی ترتیب ځمکه شنه او سمسوره کیږی. هم داسی الله تعالیٰ پخپلی مهربانی، لطیف تدبیر، ښه تربیت، پوره خبرداری او پوهی سره د انسانانو په زړونو د اسلام د فیوضو باران ورری او هغه شنه او سمسوره کوی.

لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۗ وَإِنَّ اللَّهَ لَهُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ ﴿٦٤﴾

خاص هم دغه (الله) لره دی هر څه چه په آسمانونو کښی او هر څه چه په
ځمکه کښی دی (سره له آسمانونو او ځمکی خلقاً ملکاً وعبیداً) او بیشکه

الله خامخا هم دی غنی بی پروا دی (له مخلوقاتو خپلو) ښه ستایلی شوی (په صفاتو او افعالو خپلو کښی)

**تفسیر:** یعنی هر کله چه د آسمان او د ځمکی ګرد (تول) شیان د الله تعالیٰ مملوک او مخلوق دی او ګرد (تول) پاک الله ته اړ (مجبور) او محتاج دی او الله تعالیٰ هیڅا ته هیڅ ضرورت او احتیاج نه لری، نو که وغواړی چه په دوی کښی هر ډول (طریقه) تصرف او تبدیل وکړی نو هیڅوک د ده مانع او مزاحم کیدی نشی البته پاک الله د تامه غناء او د کامل اقتدار سره سره خامخا هم هغه کار کوی چه بیخی له حکمت او مصلحت څخه ډک وی. د الله تعالیٰ ګرد (تول) افعال محمود دی او د هغه ذات د ګردو (تولو) محاسنو او حمیده ؤ صفاتو جامع دی.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِي الْأَرْضِ وَالْفُلْكَ تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِأَمْرِهِ وَيُمْسِكُ السَّمَاءَ أَن تَقَعَ عَلَى الْأَرْضِ إِلَّا بِإِذْنِهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿٦٥﴾

آیا نه دی لیدلی تا (نه ئی خبر ای مخاطبه) چه بیشکه الله مسخر (تابع) کړی دی تاسی ته هر هغه چه په ځمکه کښی دی او (مسخره کړی ئی ده) بیړی چه ګرځی په سیند کښی په حکم د هغه سره، او ساتی آسمان له دی نه چه راولویږی په ځمکه باندی مګر خو په حکم د هغه سره، بیشکه الله پر خلقو خامخا ښه نرمی کوونکی ښه مهربان دی (په انعام د اجر او ثواب سره).

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ نه ستاسی او نه د بل چا څه پروا لرله محض پخپل شفقت او مهربانی سره ئی د وچی او لمدی، بحر او بر ګرد (تول) شیان تاسی ته تابع او مسخر کړل او هم دغه الله تعالیٰ په خپل قدرت آسمان، سپوږمی، لمر او ستوری، په هوائی فضا کښی بی له کومی ظاهری ستنی معلق ساتلی دی چه له سره له خپله ځایه نه راښکته کیږی او نه رالویږی او که رالویدلی وی یا یو د بل سره ئی تکر کړی وی نو ستاسی ځمکی به ئی توتی او ذری کړی وی، څو چه د الله تعالیٰ له خوا د نظام د بدلون حکم نه وی صادر شوی تر هغه پوری به دغه ګردی (تولی) کړی هم داسی پخپلو ځایونو قائمی وی او مجال نه لری چه د یوه انچ په اندازه له خپل ځایه بی ځایه شی. د ﴿ إِلَّا بِإِذْنِهِ ﴾ استثناء محض د قدرت د اثبات د تاکید دپاره ده یا شاید د قیامت واقعی ته اشاره وی (والله اعلم).

وَهُوَ الَّذِيٓ أَحۡيَاكُمۡ ثُمَّ يُمِيتُكُمۡ ثُمَّ يُحۡيِيكُمۡۗ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَكَفُورٞ ﴿٦٦﴾

او دغه (الله) هغه (قادر مطلق دی) چه ژوندی کړی یئ تاسی (په درکولو د روح سره پس له هغه چه نطفی وئ) بیا به مړه کاندی تاسی (کله چه اجل مو پوره شی) بیا به ژوندی کړی تاسی (په قیامت کښی په بعث سره)، بیشکه انسان خامخا ناشکره دی.

**تفسیر:** هم داسی هغه قوم چه د کفر او جهل په روحانی مرگ سره مړه شوی وو د ایمان او معرفت په روح سره به هغوی بیا ژوندی کړی.

(خو بیشکه انسان خامخا ناشکره دی د نعمتونو د الله تعالیٰ) یعنی د دغومره احساناتو او انعاماتو په لیدلو سره هم د هغه حق نه منی او قدر ئی نه پیژنی او د هغه حقیقی منعم شخه مخ اړوی او نورو ته خپل سر تیتوی.

لِّكُلِّ أُمَّةٖ جَعَلۡنَا مَنسَكًا هُمۡ نَاسِكُوهُۖ فَلَا يُنَٰزِعُنَّكَ فِي ٱلۡأَمۡرِۚ وَٱدۡعُ إِلَىٰ رَبِّكَۖ إِنَّكَ لَعَلَىٰ هُدٗى مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٦٧﴾ وَإِن جَٰدَلُوكَ فَقُلِ ٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا تَعۡمَلُونَ ﴿٦٨﴾ ٱللَّهُ يَحۡكُمُ بَيۡنَكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فِيمَا كُنتُمۡ فِيهِ تَخۡتَلِفُونَ ﴿٦٩﴾

دپاره د هر یوه امت مقرره کړی ده مونږ یوه لاره د بندگی چه دوی عمل کوونکی دی د هغه پس نه ښائی چه جګړه وکړی (دا خاوندان د ادیانو) خامخا له تاسره په دی کار (دین) کښی (ځکه چه محمدی دین حق او ظاهر دی) او بلنه کوه (د خلقو توحید او عبادت د) رب خپل ته، بیشکه ته ئی خامخا په (هغه) سمه صافه لیاره (چه برابره تللی ده حق ته). او که جګړه کوی (په امر د دین کښی کفار) له تاسره نو ووایه (ای محمده! دوی ته) چه الله ښه پوه دی په هغه (جګړه او عناد) چه کوئ ئی تاسی الله به حکم وکړی په منځ ستاسی کښی په ورځ د قیامت په هغه شی کښی چه وئ تاسی چه په هغه کښی مو اختلاف کاوه (چه د دین امر دی)

**تفسیر:** تول انبیاء د دین په اصولو کښی سره متفق دی. هو! د هر امت له پاره الله تعالیٰ د

عبادت مختلف صورتونه په مختلفو زمانو کښې تاکلې (مقرر کړې) دي چه د هغو سره سم به هغو امتونو د الله تعالیٰ عبادت کاوه، لکه چه دی محمدی امت ته هم یو خاص شریعت لیږل شوی دی لیکن د دین اصل تل تر تله یو شي ؤ او دی او پرته (علاوه) له الله تعالیٰ څخه د بل هیچا او هیڅ شي دپاره عبادت نه دی مقرر کړی شوی. نو ځکه په توحید او نورو متفق علیه دینی مسائلو کښې هیچا ته نه دی لایق او نه د هغه له حال سره څه مناسبت لري چه څه اختلاف او څه جګړه وکړي. کله چه کافران په داسې واضح او ښکاره شیانو کښې هم دعوی او جګړې وکړي نو تاسې د هغوی هیڅ پروا مه کوئ! تاسې په هم هغې سمې صافې لارې باندې روان اوسئ! او نور خلق هم هغې ته راوبولئ! او د معاندینو د جګړې فیصله الله تعالیٰ ته وسپارئ! چه هغه د دوی په ګردو (ټولو) حرکاتو ښه پوه او خبر دی. د قیامت په ورځ کښې به د دوی د دغو ټولو اختلافونو او جګړو عملی فیصله وکړي، ته د دعوت او تبلیغ فرض اداء کړه! او د دوی په فکر کښې ډیر سر مه خوږوه! د داسې معاندینو علاج یوازې پاک الله سره دی.

**تنبیه:** د ﴿فَلَا يُنَازِعُنَّكَ فِي الْأَمْرِ﴾ مطلب دا هم کیدی شي کله چه د هر امت دپاره الله تعالیٰ بیل دستورالعمل مقرر کړی دی چه په هم هغه سلسله دغه محمدی امت ته هم نوی شریعت راغلی دی نو بیا د جګړې سبب څه شي دی؟ «**وهذا قبل الامر بالقتال**» ځینو مفسرینو د «منسک» معنی په ذبح او قربانی سره کړې ده مګر اقرب هم هغه ده چه مترجم قدس الله روحه اختیار کړې ده والله اعلم.

---

أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ۗ إِنَّ ذَٰلِكَ فِي كِتَابٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ﴿٧٠﴾

---

آیا نه پوهیږې ته (ای مخاطبه بلکه پوهیږې) چه بیشکه الله پوهیږي په هر هغه څه چه دي په آسمان کښې او (هر هغه څه چه دي په) ځمکه کښې بیشکه دا (مذکوره شیان لیکل شوي دي) په کتاب (لوح محفوظ) کښې بیشکه دا (علم، لیکل د لوح محفوظ، فیصله د قیامت) په الله آسان دي.

---

**تفسیر:** یعنی د خدای جل جلاله علم د دوی په اعمالو کښې څه منحصر نه دی د الله تعالیٰ علم خو د آسمان او ځمکې په ټولو شیانو باندې محیط دی او د ځینو مصالحو او حکمتونو په بناء ټول واقعات د ده د علم سره سم په لوح محفوظ کښې ثبت او محفوظ دي او هم د انسانانو ټول اعمال د دوی په عملنامو کښې لیکل شوي دي چه له هغو سره سم به د قیامت په ورځ فیصله کیږي او په دومره بې شمارو شیانو باندې په پوره ډول (طریقه) سره پوهیدل او د هغو ټولو په ښه شان سره لیکل او د هغه سره مطابق د هر یوه فیصله صادرول د دغو ټولو اجراء او انفاذ

پاک الله ته هیڅ اشکال او سختي نه لري او نه ده ته په دغو کارونو او د نورو مشکلو چارو په کولو او تکمیل کښې (معاذ الله) څه تکلیف او ربړ (زحمت) ورپیدا کیږي.

وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَانًا وَمَا لَيْسَ لَهُم بِهِ عِلْمٌ ۗ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِن نَّصِيرٍ ﴿٧١﴾

او عبادت کوي (دغه کفار) غیر له الله د هغه شي چه نه دی نازل کړی (الله) په عبادت د هغه هیڅ سند او د هغه شي چه نشته دوی ته په هغه باندې هیڅ علم دلیل پوهه، او نشته ظالمانو ته هیڅ مرسته (مدد) کوونکی (چه له عذابه ئې خلاص کړي).

**تفسیر:** دوی یوازې د خپلو پلرونو او نیکونو په تقلید کښې داسې کارونه کوي چه هیڅ یو عقلي یا نقلي کوم برهان یا سند یا دلیل پرې نه لري. (او نشته ظالمانو ته هیڅ مرسته (مدد) کوونکې چه له عذابه ئې خلاص کړي او) له تولو څخه لوی ظلم او بې‌انصافي دا ده چه پاک الله سره کوم شریک ودرولی شي. نو داسې ظالمان او بې انصافان خلق دې ښه په یاد ولري چه د دوی دغه شرکاء به د مصیبت په وخت کښې هیڅ د دوی په ښه او په کار ورنشي او نه به په هغه وخت کښې له دوی سره کومه مرسته (مدد) وکړی شي.

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ تَعْرِفُ فِي وُجُوهِ الَّذِينَ كَفَرُوا الْمُنكَرَ ۖ يَكَادُونَ يَسْطُونَ بِالَّذِينَ يَتْلُونَ عَلَيْهِمْ آيَاتِنَا ۗ قُلْ أَفَأُنَبِّئُكُم بِشَرٍّ مِّن ذَٰلِكُمُ ۗ النَّارُ وَعَدَهَا اللَّهُ الَّذِينَ كَفَرُوا ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿٧٢﴾

او کله چه ولوستل شي په دوی آیتونه (د قرآن) زموږ په داسې حال کښې چه صاف واضح ښکاره دي نو پیژني په مخونو د هغه کسانو کښې چه کافران شوي دي (آثار د) انکار (له حق څخه چه بدشکلي او خفګان دي) نژدې وي چه حمله وکړي (له ډیره قهره) په هغو کسانو چه لولي په دوی باندې آیتونه (د قرآن) زموږ ووایه (ای محمده! دوی ته چه) آیا پس خبر کړم تاسې په ډیر بد له دې (قهره حملې) ستاسې (چه دغه) اور (د دوزخ)

دی وعده کړی ده د دی (اور) الله له هغو کسانو سره چه کافران شوی دی او خامخا بد ځای د بیرته ورتلو دی (دا اور د دوزخ)

**تفسیر:** یعنی د عظیم الشان قرآن د آیتونو چه د توحید او نورو په صافو بیانونو مشتمل دی له اوریدلو څخه د کفارو او مشرکینو رنګونه تور او شنه واوړی او له ډیر خفګان نه ئی څیری بدلی شی تر دی چه له ډیر قهر او غضب څخه لیونی شی او غواړی چه د قرآن په لوستونکو حمله وکړی لکه چه په ځینو وختونو کښی داسی هم کوی.

(ووایه ای محمده دوی ته آیا پس خبر کړم تاسی په ډیر بد له دی قهره او حملی ستاسی چه دغه اور د دوزخ دی) یعنی ستاسی له دی غیظ او غضب او له بد راتلو څخه زیات چه د آیتونو د تلاوت په وخت کښی درپیدا کیږی یو بل سخت او ډیر تریخ شی هم شته چه په هغه به تاسی په هیڅ ډول (طریقه) صبر ونه کړی شئ او هغه د دوزخ اور دی چه د هغه وعده د کفارو سره شوی ده. اوس د دغو دواړو موازنه او تلنه سره وکړئ! او بیا فیصله وکړئ! چه د دغو دواړو څخه به د کوم یو تریخ ګوټ تیرول تاسی ته نسبتاً آسان وی.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَٱسْتَمِعُوا۟ لَهُۥٓ ۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَن يَخْلُقُوا۟ ذُبَابًا وَلَوِ ٱجْتَمَعُوا۟ لَهُۥ ۖ وَإِن يَسْلُبْهُمُ ٱلذُّبَابُ شَيْـًٔا لَّا يَسْتَنقِذُوهُ مِنْهُ ۚ ضَعُفَ ٱلطَّالِبُ وَٱلْمَطْلُوبُ ﴿٧٣﴾

ای خلقو بیان شوی دی تاسی ته یو مثال (غریب عجیب حال) پس غوږ کیږدئ تاسی هغه ته (چه دا دی) بیشکه هغه بتان چه تاسی عبادت کوئ (د هغو) غیر له الله نه له سره نشی پیدا کولی یو مچ هم او که راټول شی (دا ټول معبودان ستاسی پیدا کولو د) هغه مچ ته (نو پیدا به ئی نه کړی شی) او که چیری وتښتوی له دوی څخه مچ یو شی نو نشی خلاصولی دوی هغه شی له هغه مچ څخه، نو کمزوری دی دا طالب (چه د باطلو معبودانو عابد دی) او دا مطلوب (هم چه باطل معبود یا مچ دی).

**تفسیر:** دا ئی د توحید په مقابل کښی د شرک د بدی او قباحت د ظاهرولو دپاره مثال بیان کړ چه ښائی هغه په ډیر ښه فکر او غور سره واورئ او ښه غوږ ورته کیږدئ او ښه پری وپوهیږئ! ګوندی له داسی رکیک او ذلیل حرکت څخه مخ وګرځوئ او لاس تری واخلئ!

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ الآیة ـ بیشکه هغه بتان چه تاسی عبادت کوئ (د هغوی) غیر

له الله څخه له سره نشي پيدا کولی يو مچ) يعنی مچ ډير ادنیٰ او حقير ساکښ (جاندار) دی په هغو شيانو کښی چه دومره يو قدرت او قوت نه وی چه که تول سره يو ځای شی يو مچ هم نشي پيدا کولی يا که دغه مچ د دوی د نذرونو او نيازونو ځنی يو وړوکی شی (لکه د ګلانو او عطرياتو يا د شاتو يا د نورو کوم بخرکی تری) وتښتوی نو د دوی له لاسه نه کيږی چه هغه تری بيرته واخيستی شی ښه نو د ځمکی او آسمانونو د خالق په ځای (نعوذ بالله) د الوهيت په تخت باندی د داسی عاجزو او ناتوانو معبودانو کينول څومره حماقت او بی حيائی ده. رښتيا خبره خو هم دا ده چه مچ هم کمزوری دی او له مچ نه زيات کمزوری د دوی بتان دی او له بتانو څخه ډير زيات کمزوری د بتانو عبادت کوونکی دی چه دوی داسی حقير او کمزوری شی خپل معبود او حاجت تر سره کوونکی ګرځولی دی.

---

مَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَقَوِيٌّ عَزِيْزٌ ﴿۷۴﴾

---

نه دی پيژندلی (دغو کفارو) او نه ئی دی تعظيم کړی د الله په حق پيژندلو او تعظيم د ده سره، بيشکه الله خامخا ښه قوی زورور ډير زبردست دی (په تنفيذ د احکامو خپلو کښی)

---

**تفسير:** که پوهيدی نو داسی سپين سترګی به ئی ولی کوله؟ آيا د الله تعالیٰ رفيع شان او قدر او منزلت دومره دی چه داسی کمزوری شيان د هغه سيال او شريک وګرځولی شی (العياذ بالله) د الله تعالیٰ د قوت او عزت په مقابل کښی خو د هغه لوئی لوئی مقربی پرښتی او انبياء عليهم السلام هم مجبور او ناتوان دی چه اوس په لاندی متبرک آيت کښی د هغوی ذکر راځی.

---

اَللّٰهُ يَصْطَفِيْ مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا وَّمِنَ النَّاسِ ؕ

---

الله غوره کوی له پرښتو څخه استاځی (چه واسطه کيږی په منځ د الله او انبياؤ کښی) او له خلقو څخه (هم غوره کوی استاځی)،

---

**تفسير:** له ځينو پرښتو څخه د رسالت کار اخلی مثلاً جبريل عليه السلام او له ځينو انسانانو څخه چه پاک الله د دغه منصب دپاره انتخاب کړی هم دغه د رسالت کار اخلی ښکاره ده چه د هغوی درجه د نورو خلقو څخه ډيره لوړه (اوچته) ده.

---

اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ ﴿۷۵﴾

بیشکه الله ښه اوریدونکی دی (د ټولو اقوالو) ښه لیدونکی دی (عالم په ټولو اشیاؤ)

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ د دوی په ټولو خبرو د دوی د ماضی او مستقبل ټول احوال وینی نو ځکه هغه حق لری چه د هر چا احوال او استعداد ته وګوری او سم له هغه سره ئې د رسالت په منصب فایز او بریالی (کامیاب) کړی ﴿ اَللّٰهُ اَعۡلَمُ حَیۡثُ یَجۡعَلُ رِسَالَتَهٗ ﴾ جزء ۸ (د الانعام ۱۲٤ آیت ۱۵ رکوع). حضرت شاه صاحب لیکی «یعنی له ټولو خلقو څخه غوره هغه کسان دی چه د خدای جل جلاله پیغام رسوی، په پرښتو کښې هم هغه پرښتې غوره دی. نو د دوی د هدایتونو پریښودل او د بتانو منل څومره باطل کار دی.

یَعۡلَمُ مَا بَیۡنَ اَیۡدِیۡهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ ؕ وَاِلَی اللّٰهِ تُرۡجَعُ الۡاُمُوۡرُ ﴿۷۶﴾

پوهیږی (الله) په هغه څه چه د وړاندی د دوی دی او په هغه څه چه وروسته د دوی دی، او خاص طرف د الله ته بیرته ګرځولی کیږی ټول کارونه

**تفسیر:** یعنی هغوی هم اختیار نه لری په هر شی کښې اختیار د الله تعالیٰ دی (کذا فی الموضح) نو خاص الله تعالیٰ ته بیرته ګرځولی شی ټول کارونه او هیڅوک د الله تعالیٰ په کارونو کښې د اعتراض حق نه لری، د الله تعالیٰ حکم، تدبیر، د انبیاؤ انتخاب او نور ټول کارونه ښه دی او د ده په حکم او اراده سره کیږی.

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوا ارۡکَعُوۡا وَاسۡجُدُوۡا وَاعۡبُدُوۡا رَبَّکُمۡ وَافۡعَلُوا الۡخَیۡرَ لَعَلَّکُمۡ تُفۡلِحُوۡنَ ۚ﴿۷۷﴾

ای هغو کسانو چه ایمان ئې راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو) رکوع کوئ تاسی! او سجده کوئ تاسی! (په لمانځه کښې) او عبادت کوئ تاسی! د رب خپل (نه د بل) او کوئ نیک کارونه (لکه صلة الرحمی او ښه اخلاق) دپاره د دی چه بری وموموئ (په نعمت او جنت سره)

**تفسیر:** د شرک د غندنی او د مشرکانو د سپکونی څخه وروسته مؤمنانو ته خطاب کوی چه تاسی یوازی د خپل یوه خدای تعالیٰ په بندګی لګیا اوسئ! او د هغه په حضور کښې د بندګی سرونه ښکته کړئ! او د عبودیت او عاجزی وچولی (تندی) مو هم هغه ته په ځمکه کیږدئ! او

نور د ښيگڼي (فائدې) ټول کارونه هم خاص د الله تعالیٰ دپاره کوئ څو دنيوي او اخروي ښيگڼې (فايدې) او نيکي مو په برخه شي.
ځينو مفسرينو د دې آيت ترجمه داسې کړې ده «اې مؤمنانو تاسې رکوع کوئ وروسته له دې نه په لمانځه کښې او سجده هم پکښې کوئ!» او دغه حکم ئې ځکه وکړ چه د اسلام په اوله کښې لمونځ تش په قيام او قعود سره ؤ او رکوع او سجده پکښې نه وه بيا دغه دواړه په دغه آيت سره فرض شول او که ئې مقصد مطلق لمونځ وي نو د رکوع او د سجدې ذکر او تخصيص به ئې ځکه کړې وي چه د لمانځه د لويو ارکانو څخه دي او بندګان د رکوع او سجدې په حالت کښې زيات د ستايلو وړ (لائق) دي امام شافعي رحمة الله عليه د رکوع او سجدې له دغه تخصيص څخه د تلاوت سجده مرادوي.

وَجَاهِدُوا فِي اللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِ ۚ هُوَ اجْتَبَاكُمْ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ ۚ مِلَّةَ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ ۚ هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ مِنْ قَبْلُ وَفِي هَٰذَا لِيَكُونَ الرَّسُولُ شَهِيدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ ۚ فَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَاعْتَصِمُوا بِاللَّهِ هُوَ مَوْلَاكُمْ ۖ فَنِعْمَ الْمَوْلَىٰ وَنِعْمَ النَّصِيرُ ﴿٧٨﴾

او زيار (کوشش) کوئ په ( لاره د جهاد، طاعت، او رضاء د) الله په حق د جهاد د هغه سره (چه ورته وړ (مستحق) او لائق دی)، دغه (الله) غوره کړې يئ تاسې او نه ئې دی گرځولی (نه ئې دی ايښی) په تاسې په دين کښې هيڅ حرج (مشقت او اشکال)، (متابعت وکړئ د) دين د پلار خپل چه ابراهيم دی، دغه (الله) ونوموليئ تاسې مسلمانان پخوا (له دغه قرآن څخه په نورو آسماني کتابونو کښې) او په دغه (قرآن) کښې (هم) دپاره د دې چه شي رسول (ستاسې محمد) شاهد (ښوونکی) په تاسې (د تبليغ خپل) او چه شئ تاسې (اې مسلمانانو) شاهدان (ښوونکي) په نورو خلقو (دتبليغ د نورو انبياؤ) نو قائموئ (سم اداء کوئ تاسې سره له ټولو حقوقو) لمونځ او ورکوئ تاسې زکوٰة او ښه ټينګ ونيسئ تاسې (دين د) الله دغه (الله) مالک دی ستاسې پس ښه مالک دی (الله) او ښه مرسته (مدد) کوونکی دی (الله).

**تفسیر:** د خپل نفس د تهذیب او د دنیوی چارو د سمون دپاره داسی پوره زیار (کوشش) کوئ چه د دی لوی او اهم مقصد دپاره وړ (مستحق) او لایق او د هغه له شان سره موافق وی آخر د دنیوی مقاصدو د بری او کامیابی دپاره تاسی څومره تکلیفونه او زحمتونه په ځان اخلئ! دا خو د دین او د آخرت د دائمی بری او کامیابی لاره ده چه په هغی کښی هر څومره زحمت او محنت وموموئ بیا هم د انصاف له مخی کم دی.

**تنبیه:** د «مجاهده» په لفظ کښی هر قسم کوښښونه، د ژبی وی که د قلم، مالی وی که بدنی شامل دی او هم د «جهاد» تمام اقسام جهاد مع النفس، جهاد مع الشیطان جهاد مع الکفار، جهاد مع البغاة، جهاد مع المبطلین د هغه لاندی داخل دی.

(﴿ هُوَاجۡتَبٰىكُمۡ ﴾ دغه الله غوره کړی یئ تاسی ای مؤمنانو د خپل دین د طاعت او نصرت دپاره) یعنی له تولو څخه اعلیٰ او افضل رسول او له تولو شرائعو څخه ئی اکمل شریعت درکړ او په تمامه دنیا کښی د الله تعالیٰ د پیغام رسولو دپاره ئی تاسی غوره او منتخب کړئ! او په ګردو (تولو) امتونو باندی تاسی ته فضیلت دروباښه.

( ﴿ وَمَاجَعَلَ عَلَيۡكُمۡ فِى الدِّيۡنِ مِنۡ حَرَجٍ ﴾ او نه دی ګرځولی او نه دی ایښی په تاسی په دین کښی هیڅ حرج مشقت او اشکال) یعنی په دین کښی ئی هیڅ داسی یو اشکال نه دی پریښی چه د هغه کول سخت او مشکل وی په احکامو کښی ئی د هر ډول (طریقه) رخصتونو او آسانیو لحاظ ساتلی دی دا خو بیله خبره ده چه تاسی یو آسان کار په خپل ځان مشکل وګرځوئ!

( ﴿ مِلَّةَ اَبِيۡكُمۡ اِبۡرٰهِيۡمَ ﴾ متابعت وکړئ! ای مؤمنانو د دین د پلار خپل چه ابراهیم علیه السلام دی کله چه ابراهیم علیه السلام د حضرت محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وعلیٰ آله وصحبه وسلم په اجدادو کښی شامل دی نو ځکه د ګرد (تول) امت پلار شو یا به دا مراد وی چه د عربو پلار دی ځکه چه د قرآن ړومبنی مخاطبان هم دوی وو.

(﴿ هُوَسَمّٰىكُمُ الۡمُسۡلِمِيۡنَ ﴾ دغه الله تعالیٰ یا ابراهیم علیه السلام ونومولئ تاسی مسلمانان یعنی الله تعالیٰ په پخوانیو کتابونو او په دی عظیم الشان قرآن کښی ستاسی نوم «مسلم» ایښی دی چه معنی ئی حکم منونکی، وفا خوښوونکی دی یا ابراهیم علیه السلام له پخوا څخه ستاسی نوم مسلمان ایښی دی کله چه پخپله دعاء کښی ئی ویلی وو ﴿ وَمِنۡ ذُرِّيَّتِنَآ اُمَّةً مُّسۡلِمَةً لَّكَ ﴾ د البقره (۱۵) رکوع. او په قرآن کښی هم ښائی د هم ده په غوښتنه دغه نوم په تاسی ایښود شوی وی په هر حال ستاسی نوم «مسلم» دی. اګر که نور امتونه هم مسلمانان وو مګر دغه لقب ستاسی له پاره غوره او تاکل (مقرر) شوی دی نو ښائی پری فخر وکړئ.

(﴿ لِيَكُوۡنَ الرَّسُوۡلُ شَهِيۡدًا ﴾ الآیة - دپاره د دی چه شی رسول ستاسی محمد صلی الله علیه وسلم شاهد ښوونکی په تاسی د تبلیغ خپل او چه شئ تاسی ای مسلمانانو شاهدان ښوونکی د تبلیغ د نورو انبیاؤ) یعنی تاسی ئی د دی دپاره غوره کړئ چه تاسی نورو امتونو ته ښوونه وکړئ او رسول الله صلی الله علیه وسلم تاسی ته ښوونه وکړی او دغه امت چه له تولو څخه وروسته راغلی دی.

غرض ئې دا دی چه دی د نورو تولو امتونو غلطئ اصلاح کړی او گردو (تولو) ته سمه صافه لاره وښیئ گواکی هغه مجد او شرف چه د ده په برخه شوی دی له هم دی وجه دی چه دی د گردی (تولی) دنیا معلم (ښوونکی) وګرځی او په تبلیغی جهاد کښې مصروف واوسی.

**تنبیه:** نورو مفسرانو (شهیداً) او (شهداء) د شاهد او گواه په معنی اخیستی دی کله چه د قیامت په ورځ کښې نور امتونه انکار وکړی چه انبیاء الله علیهم السلام مونږ ته تبلیغ نه دی کړی او له انبیاؤ څخه شاهدان وغوښتل شي نو دوی به محمدی امت د شاهد په ډول (طریقه) ور وړاندی کړی او دغه امت به داسی شاهدی اداء کړی «بیشکه چه دغو انبیاؤ علیهم السلام د دعوت او تبلیغ وظائف انجام کړی دی او د الله تعالیٰ حجت ئې قائم کړی دی» کله چه له دوی څخنی پوښتنه وشی چه دا خبره تاسی ته څرنګه معلومه شوه نو ځواب به ورکړی چه «دغه اطلاع مونږ ته زمونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم راکړی ده چه د ده په صداقت باندی د الله تعالیٰ محفوظ کتاب قرآن کریم شاهد دی» گواکی دغه فضل او شرف ئې ځکه درکړی دی چه تاسی به یوی عظیم الشانی دعوی کښې د یوه معزز شاهد او گواه په شان دریدونکی یئ، لیکن ستاسی د دغی شاهدی اوریدل او اهمیت هم ستاسی د معظم رسول په برکت او طفیل سره دی چه هغه به ستاسی تزکیه کوی.

( ﴿ فَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا الزَّكَوٰةَ ﴾ نو قائموئ سم اداء کوئ سره له تولو حقونو لمونځ او ورکوئ زکوٰة او ښه تینګ ونیسئ دین د الله دغه الله مالک دی ستاسی الخ) یعنی د الله تعالیٰ د انعاماتو قدر وکړئ! او د خپل نوم او لقب، فضل او شرف، پت او عزت وساتئ! او ښه وپوهیږئ چه تاسی د ډیرو لویو لویو کارونو دپاره درولی شوی یئ نو ځکه ښائی چه تاسی ړومبی خپل ځان د ښو عملونو ښه نمونه وګرځوئ! او په هر کار کښې د الله تعالیٰ پری کلک په خپلو منګلو کښې ونیسئ! او د یوی ذری په اندازه هم د حق له لاری څخه دی خوا او هغه خوا لاړ نشئ! نور تول کمزوری وسائل او وسائط پریږدئ! بیا نو د الله تعالیٰ په فضل او رحمت باندی اعتماد ولرئ! او یوازی هم دغه الله تعالیٰ خپل مولیٰ او مالک وګڼئ! چه له هغه نه بل ښه مالک او مددګار به له کومه وموموئ! **ربنا اجعلنا من مقیمی الصلوٰة ومؤتی الزکوٰة والمعتصمین بک والمتوکلین علیک فانت مولانا وناصرنا فنعم المولیٰ انت ونعم النصیر انت.**

**«تمت سورة الحج بفضله ومنه فله الحمد وعلیٰ نبیه الصلوٰة والتسلیم»**

سورة المؤمنون مكية وهی مائة وثمانی عشرة آية وست ركوعات رقمها (٢٣) تسلسلهاحسب النزول (٧٤) نزلت بعد سورة «الانبياء»

د «المؤمنون» سورت مكی دی (١١٨) آيات (٦) ركوع لری
په تلاوت كښی (٢٣) او په نزول كښی (٧٤) سورت دی
وروسته د (الانبياء) له سورت نه نازل شوی دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

(شروع) په نامه د الله چه خورا (ډير) مهربان ډير رحم والا دی

قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿١﴾ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَ ﴿٢﴾

په تحقيق برياليٰ (بهرمن ـ كامياب) شوی دی مؤمنان هغه (مؤمنان) چه دوی په لمونځونو خپلو كښی عاجزی كوونكی ويريدونكی دی (له الله نه)

**تفسير:** د «**خشوع**» معنی دا ده چه د بل چا په مخ كښی په خوف او هيبت سره ساكن او سرښكته كری لكه چه ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه د ﴿خٰشِعُوْنَ﴾ تفسير په «**خائفون ساكنون**» سره كری دی او د ﴿تَرَى الْاَرْضَ خَاشِعَةً فَاِذَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَآءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ﴾ آيت هم دلالت كوی چه په «**خشوع**» كښی يو قسم سكون او تذلل معتبر دی.
په قرآن كريم كښی «**خشوع**» د «**وجوه ـ ابصار ـ اصوات او نورو**» صفت درولی شوی دی. او په دغه آيت كريمه د ﴿اَلَمْ يَاْنِ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ﴾ كښی د قلب صفت ښوولی شوی دی. معلوميږی چه اصلاً «**خشوع**» د زړه كار دی او د نورو بدنی اعضاؤ خشوع د زړه د خشوع تابع ده كله چه په لمانځه كښی قلب خاشع ـ خائف ـ ساكن او ښكته شی نو خيالات هم د دی خوا او د هغی خوا د مشغولتيا او ګرځيدو څخه فارغ او په هم هغه يو مقصود باندی ټينګ درېږی نو بيا د خوف ـ هيبت ـ سكون خضوع او خشوع آثار پر بدن هم ظاهرېږی مثلاً د اوږو ـ سر ـ او ستركو ښكته غورځول په ادب سره لاس تر نامه لاندی ترلی دريدل ـ دی خوا او هغی خوا ته نه كتل ـ له خپلو كاليو (جامو) او ويښتو او نورو شيانو سره لوبی نه كول ـ د ګوتو نه تركول ـ او په دی قسم د «**خشوع**» د لوازمو څخه نور افعال او احوال هم شته.
په احاديثو كښی د حضرت ابوبكر صديق رضی الله تعالیٰ عنه او عبد الله بن زبير رضی الله تعالیٰ عنه څخه منقول دی چه دوی به په لمانځه كښی داسی ساكن
او آرام وو لكه يو بی ساه لرګی. او ويل كيده چه دغه د لمانځه خشوع ده.

فقهاء په دغه مسئله کښې اختلاف لرى چه آيا لمونځ بې له خشوع څخه صحيح او مقبول وى که نه؟ په «روح المعانى» کښې ئې ليکلى دى چه خشوع د لمانځه د اجزاء دپاره شرط نه دى هو! د قبول الصلوٰة دپاره شرط دى. ځما په نزد دغسې ويل بهتر دى چه د حسن القبول لپاره شرط دى والله اعلم.

دلته د تفصيل ځاى نشته په «احياء العلوم» او د هغه په شرح کښې دى تفصيلات وليدل شى! په هر حال مونږ مؤمنانو ته انتهائى فلاح او اساسى نجاح په هم دغه کښې حاصليږى چه سره له خشوع او خضوع خپل لمونځونه اداء کړو. او په هغو اوصافو سره دى موصوف اوسو چه په دغه مبارک آيت کښې اوس بيانيږى.

## وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُوْنَ ﴿۳﴾

او هغه (کسان هم بهرمن شول) چه دوى له ناكارو (بدو اقوالو بدو افعالو) څخه مخ ګرځوونکى دى.

**تفسير:** يعنى په فضولو او بيکارو مشاغلو کښې خپل وقت نه ضائع کوى که کوم بل سړى لغو او چټى (بيکاره) او مهملى خبرى يا افعال کوى نو د هغو له اوريدلو او کتلو څخه مخ اړوى. او ده ته د عبوديت د وظائفو له ايفاء کولو څخه دومره وقت او فرصت نه وى ميسر چه په دغسى بى فائدى جګړو او فضولو خبرو کښې ځان اخته کړى.

## وَالَّذِيْنَ هُمْ لِلزَّكٰوةِ فٰعِلُوْنَ ﴿۴﴾

او هغه (کسان هم بهرمن شول) چه دوى (تل) د زکوٰة اداء کوونکى دى (چه د مالى فعلى او قولى عباداتو جامع دى).

**تفسير:** يعنى دغه د دوى عادت دى چه تل زکوٰة اداء کوى او داسى نه دى چه کله ئې ورکوى ـ او کله ئې نه ورکوى ـ غالباً له هم دى جهته د ﴿ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ ﴾ په ځاى ئې د ﴿ لِلزَّكٰوةِ فٰعِلُوْنَ ﴾ ترکيب اختيار فرمايلى دى. ګواکى دا ئې ښودلى دى چه د زکوٰة اداء د دوى مستمر کار دى ـ محقق شيخ الهند رحمة الله عليه په «تل د زکوٰة ورکوونکى دى» سره په دغه لورى هم اشاره وکړه. ځينو مفسرينو دلته زکوٰة د طهارت او پاکيزګۍ يا د نفس د تزکيى په معنى اخيستى دى ګواکى دغه آيت ئې د ﴿ قَدْ اَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى ﴾ او د ﴿ قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَكّٰهَا ﴾ پشان مقرر کړى دى. که دغسى مراد وى نو د هغه مفهوم دى عام کيښود شى چه په هغه کښې د بدن د زړه او د مال پاک ساتل ګرد (ټول) داخل شى ـ زکوٰة او صدقات هم يو قسم مالى تطهير دى

﴿خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا﴾ جزء ۱۱ (د التوبة ۱۳ رکوع ۱۰۳ آیت) د داسی ویلو چه دغه آیت مکی دی او په مکی معظمی کښی لا زکوٰة نه ؤ فرض شوی، ابن کثیر رحمة الله علیه جواب داسی ورکړی دی چه د زکوٰة اصلی مشروعیت په مکه کښی شوی ؤ هو! ـ د هغه د مقادیرو او نصبو او نورو تشخیص وروسته د مدینی منوری له راتګه وشو والله اعلم.

---

وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ ﴿٥﴾ إِلَّا عَلَىٰ أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ ﴿٦﴾ فَمَنِ ابْتَغَىٰ وَرَاءَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْعَادُونَ ﴿٧﴾

---

او هغه (کسان هم بهرمن شول) چه دوی فروجو (ځایٔ د شهواتو) خپلو لره ساتونکی دی (له سفاح څخه) مګر پر ښځو خپلو یا پر هغو وینځو چه مالکان شوی وی د هغو ښی لاسونه د دوی پس بیشکه دوی نه دی ملامت کړی شوی (په ورتلو سره ښځو او وینځو خپلو ته) پس هر څوک چه وغواړی (دفع د شهوت) غیر له دغو (ښځو او وینځو خپلو) نه پس دغه کسان هم دوی دی تجاوز کوونکی (له حده)۔

---

**تفسیر:** یعنی له خپلی منکوحی ښځی یا وینځی څخه ماسواء بله کومه لیاره د شهوت د قضاء دپاره ولټوی نو دی د حلالو له حدودو وتونکی دی په دی کښی زناء ـ لواطت او استمناء بالید او نور ګرد (ټول) غیرمشروعه صورتونه راغلل ـ بلکه ځینو مفسرینو د «متعه» پر حرمت هم پر هم دغه آیت استدلال کړی دی ـ وفیه کلام طویل لایسعه المقام ـ راجع روح المعانی تحت هذه الآیة الکریمة.

---

وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ ﴿٨﴾

---

او هغه (کسان هم بهرمن شول) چه دوی امانتونو خپلو لره او عهدونو خپلو ته (که د خالق وی که د مخلوق) رعایت کوونکی دی (چه بیوفائی او خیانت پکښی نه کوی).

---

**تفسیر:** یعنی د امانت او قول او اقرار حفاظت کوی ـ خیانت او بد عهدی نه کوی نه د الله تعالیٰ په معاملاتو کښی او نه د بندګانو په چارو کښی.

وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَوٰتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ﴿٩﴾

او هغه (کسان هم بهرمن شول) چه دوی (همیشه) پر لمونځونو خپلو ساتنه کوی (چه تل ئی سم اداء کوی سره له تولو حقوقو).

**تفسیر:** یعنی تل لمونځونه د هغو پر اوقاتو، د آدابو او حقوقو له رعایت سره اداء کوی د دنیوی معاملاتو د مشغولیت لامله (له وجی) د الله تعالیٰ له ذکره او فکره نه غافلیږی. تر دی ځایه پوری ئی د مفلحینو مؤمنینو شپږ صفات او خصال بیان وفرمایل

(١): ـ سره له خضوعه او خشوعه د لمونځونو اداء کول ـ یعنی په زړه او بدن سره د الله تعالیٰ په طرف رجوع او ورمائل کیدل.

(٢): ـ د باطلو ـ لغوو ـ او بیباکو خبرو او ناکارو کارونو څخه ځان بیل ساتل

(٣): ـ د زکوٰة یعنی مالی حقوق اداء کول. یا خپل نفس او مال پاک ساتل.

(٤): ـ نفسانی شهوات پخپل واک (قبضه) او اختیار کښی ساتل.

(٥): ـ د عهد او امانت حفاظت یعنی د ګردو (تولو) معاملاتو درست او منظم ساتل.

(٦): ـ او په آخر کښی ئی بیا د لمونځونو د قیام تاکید وفرمایه چه په پوره ډول (طریقه) سره ئی حفاظت وکری چه پخپلو اوقاتو او آدابو او شروطو له رعایت سره اداء کرل شی. له دی نه ظاهریږی چه د لمانځه حق د الله تعالیٰ په نزد دیر لوړ او اعلیٰ او خورا (ډیر) مهتم بالشان څیز دی چه دلته ئی خپله خبره پر هم هغه باندی شروع او پر هم هغه باندی ئی ختمه کره.

اُولٰٓئِكَ هُمُ الْوٰرِثُوْنَ ﴿١٠﴾ الَّذِيْنَ يَرِثُوْنَ الْفِرْدَوْسَ ؕ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿١١﴾

هم دغه (مؤمنان موصوف په دغو شپږ واړو صفاتو) هم دوی دی وارثان (لائقان نه نور څوک) هغه (وارثان) چه میراث به اخلی (ویړیا اعلیٰ جنت د) فردوس (د آدم یا د دوزخیانو برخه به هم اخلی) دوی به دغه (جنت الفردوس) کښی تل پاتی کیدونکی دی.

**تفسیر:** د جنت د میراث موندلو په نسبت لازمه معلومات پخوا له دی نه لیکلی شوی دی (دا بیان ۋ د «معاد» نو له دی سره مناسب دی بیان د «مبدا» نو څکه وریسی داسی فرمائی)

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنْ سُلٰلَةٍ مِّنْ طِيْنٍ ﴿١٢﴾

او قسم دی خامخا په تحقیق پیدا کړی دی مونږ انسان (آدم) له خالصی (صافی له خیری ویستلی شوی) ختو نه

**تفسیر:** ځکه چه ځمونږ د ګردو (تولو) پلار حضرت آدم علیه السلام له منتخبی او غوره کړی شوی خاوری څخه پیدا کړی شوی دی او برسیره پر هغه تمام بنی آدمان له نطفی څخه پیدا کیږی چه دغه نطفه هم له ځمکی څخه بالوسیله متشکله کیږی چه د منتخبو او غوره کړیو شیانو خواړه او د اغذیه ؤ عصاره او خلاصه ده.

ثُمَّ جَعَلْنٰهُ نُطْفَةً فِیْ قَرَارٍ مَّكِیْنٍ ﴿۱۳﴾

بیا وګرځاوه کیښود مونږ (اولاده د) دغه (آدم) نطفه (تړلی څاڅکی د منی) په یو قرارګاه محکم (رحم کښی)

**تفسیر:** یعنی د مور په رحم کښی چه له هغه ځایه بل هیچیری نشی خوځیدلی.

ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظٰمًا فَكَسَوْنَا الْعِظٰمَ لَحْمًا ۗ ثُمَّ اَنْشَاْنٰهُ خَلْقًا اٰخَرَ ؕ فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخٰلِقِیْنَ ﴿۱۴﴾

بیا وګرځوله مونږ دا نطفه توته د وینو (کلکه سرینښناکه) بیا وګرځوله مونږ دغه توته د وینو یوه وړه بوټۍ د غوښو بیا وګرځوله مونږ دا بوټۍ د غوښو هډوکی بیا ور واغوستله مونږ دی هډوکو ته (پس له پیدا کولو د رګونو او د پلو او نورو) غوښه بیا مو (ژوندی) پیدا کړ دی په پیدایښت بل سره (په نوی صورت) پس ډیر لوړ لوی دی شان د الله (په قدرت او په حکمت خپل کښی) چه ډیر ښه پیدا کوونکی (صورت تړونکی) دی (له نورو تولو پیدا کوونکیو صورت تړونکیو څخه خلقاً)

**تفسیر:** یعنی د غوښی یوه برخه کلکوی او تری هډوکی جوړوی او د هډوکو پر قفس (ډانچه) او سلسله (لیر) رګونه ـ پلی ـ تارونه او د بدن نور محتاج الیه د پیدا کولو څخه وروسته غوښی او پوستکی زرغونوی پخوا له دی نه (په ۱۷ جزء د الحج د سورت په (۱) رکوع کښی د انسان د

تخلیق هم دغه کیفیت بیان کری شوی دی.

﴿ ثُمَّ أَنْشَأْنٰهُ خَلْقًا اٰخَرَ ﴾ - بیا مو ژوندی پیدا کړ دی په پیدایښت بل سره (په نوی صورت) یعنی د روح د پوکولو په سبب ئی له دی نه یو ژوندی ویښ انسان جوړ کړ چه پر دغه ذی روح انسان وروسته له دی نه د طفولیت (بچپنه)، شباب (زوانئی)، کهولت (پوخ عمر) او شیخوخت (بداوالی) ډیر احوال او ادوار او مراحل تیریږی یا دا چه اول جماد ؤ اوس ئی حیوان کړ پخوا پروند، کوڼ، ګونګ ؤ اوس ئی لیدونکی اوریدونکی ویونکی کړ ځکه ځمونږ امام اعظم رحمة الله علیه وائی «که څوک هګی له چا څخه په غصب واخلی او بیا ده څخه چرګوړی شی نو دا غاصب ضامن د هګی دی نه د چرګوړی ځکه چه دا اوس بل څیز شوی دی.»

﴿ فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ أَحْسَنُ الْخٰلِقِيْنَ ﴾ - پس ډیر لوی لوړ دی شان د الله په قدرت او په حکمت خپل کښی چه ډیر ښه پیدا کوونکی صورت ترونکی دی له نورو تولو پیدا کوونکیو صورت ترونکیو مصورانو نه خلقاً) یعنی هغه الله تعالیٰ چه په نهایت ښه ډول (طریقه) او ښائست د انسان تمام اعضاء او قوی ئی په ډیر ښه قالب کښی جوړی کړی دی او د هغه خلقت ئی سم له حکمت سره نهایت موزون او متناسب ګرځولی دی ډیر لوی او لوړ ذات او عالی صفات دی اعلیٰ شانه واعظم برهانه.

**فائده:** سره له دی چه الله تعالیٰ خالق د تمامو موجوداتو دی یعنی ځمکی، آسمانونه، عرش، کرسی لوح - قلم - جن - ملائک - لمر - سپوږمی ستوری - جبال - بحار - اشجار - انهار او داسی نور ډیر اشیاء ئی پیدا کړی دی مګر په هیڅ یوه باندی ئی داسی ثناء په ذات پاک خپل ونه ویله لکه په پیدا کولو د انسان له دی نه دا خبره معلومه شوه چه انسان ورته ډیر معزز او مکرم دی ځکه ئی فرمایلی دی ﴿ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيْٓ اٰدَمَ ﴾ الآیة - خامخا په تحقیق کرامت عزت ورکړی دی مونږ ځامنو د آدم ته.

---

## ثُمَّ إِنَّكُمْ بَعْدَ ذٰلِكَ لَمَيِّتُوْنَ ﴿١٥﴾

---

بیا بیشکه تاسی پس له دی ژوندی کولو د تاسی (په دغه پاس طریقه سره) خامخا مړه کیدونکی یئ

---

**تفسیر:** یعنی ستاسی وجود ذاتی او خانه زاد نه دی بلکه مستعار او د الله تعالیٰ عطاء او بخشش دی لکه چه د موت په لیږلو سره د هغه ګردی (تولی) نقشی ورانوی او تاسی په هغه وقت کښی د مرګ له زورورو او قوی منګلو څخه خپل ژوندون نشیٔ ساتلی نو معلوم شو چه بل کوم او قاهر قوت او قدرت ستاسی پر سرونو شته چه ستاسی د وجود ژوندون او بقاء زمام ئی تینګ د خپل قدرت په لاس نیولی دی او هر وقت چه اراده او مشیت وفرمائی هغه پرېږدی او خوشی کوی ئی یا ئی بیرته راکاږی فسبحان الله احسن الخالقین.

ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ تُبْعَثُوْنَ ﴿۱۶﴾

بیا بیشکه تاسی په ورځی د قیامت کښې بیا ژوندی راپاڅول شئ (له قبورو له لپاره د جزاء .

**تفسیر:** هغه لوی ذات چه اول ځلی ئې پیدا کړی ؤ هم هغه دوهم ځلی هم بیا ژوندی راپاڅوی پرومبی د وجود مستور قوتونه او د اعمالو نتائج پخپل ډیر کامل صورت سره ظاهر او دغه په اثبات رسوی چه دومره یوه لویه کارخانه می خوشی چتی (بیکاره)، بی نتیجی، عبث او د لوبو او ساعت تیری لپاره نه وه جوړه کړی.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعَ طَرَآئِقَ ﷺ

او خامخا په تحقیق پیدا کړی دی مونږ پاس په سر د تاسی اووه لیاری (۷ آسمانونه).

**تفسیر:** د «طرائق» معنی د ځینو مفسرینو او لغویینو په نزد «طبقات» ده یعنی د اسمان اوه طبقی مو لاندی باندی جوړی کړی دی فهذا کماقال ﴿ كَيْفَ خَلَقَ اللّٰهُ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا ﴾ (د نوح ۱۵ آیت (۱) رکوع (۲۹ جزء) او ځینی د «طرائق» معنی لیاری آخلی یعنی اوه لیاری مو جوړی کړی دی چه د پرښتو د تللو او راتللو معبری دی ځینی معاصر مصنفین له ﴿ سَبْعَ طَرَآئِقَ ﴾ څخه د اوو سیاراتو مدارات مرادوی والله اعلم.

وَمَا كُنَّا عَنِ الْخَلْقِ غٰفِلِيْنَ ﴿۱۷﴾

او نه یو مونږ له (ګردو (تولو) احوالاتو د) مخلوقاتو (خپلو څخه) غافله بی خبره

**تفسیر:** یعنی هر څیز مو په پوره انتظام او محکموالی او خبرداری سره جوړ کړی دی او د ده د حفاظت او بقاء له طریقو څخه مونږ پوره باخبره یو په سمایهؤ اجرامو او سفلیهؤ مخلوقاتو کښې کوم یو داسی څیز نه دی چه ځمونږ د علم او قدرت له احاطی څخه خارج وی که نه دغه ګرد (تول) نظم ترتیب او تنسیق سره ګډوډ او خراب تراب کیږی.
﴿ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَآءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا ﴾ الآية - جزء ۲۷

د الحدید ٤ آیت (١) رکوع .

وَأَنزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً بِقَدَرٍ فَأَسْكَنَّاهُ فِي الْأَرْضِ وَإِنَّا عَلَىٰ ذَهَابٍ بِهِ لَقَادِرُونَ ﴿١٨﴾

او نازلی کړی دی مونږ له (طرفه د) آسمانه اوبه په اندازه (کفاف د خیر او صلاح د خلقو) نو ومو درولی دغه (اوبه) په ځمکه کښی او بیشکه مونږ په بیولو ورکولو د دی (اوبو) هرومرو (خامخا) قادر یو (لکه چه قادر یو په نازلولو ئی هم).

**تفسیر:** یعنی راښکته کړی دی مونږ له لوری د آسمانه اوبه په هغه میچ چه د مخلوقاتو ښیګنه (فایده) پکښی وینو) نه دغومره زیاتی چه بی وقته او بی موقعه تباه او توی لاړی شی او نه دومره لږی مو درکړی چه ستاسی ضروریاتو ته کفایت ونه کړی.

﴿فَأَسْكَنَّاهُ﴾ الآیة - پس ومو درولی حصاری کړی مونږ دغه اوبه په ځمکه کښی الخ) یعنی ځمکه د باران اوبه پخپل منځ کښی ځبیښی او جذب کوی ئی چه بیا مونږ دغه اوبه تری د کاریزو کوهیو او برمو او نورو په وسیله راوباسو او تری استفاده کوو یا پخپله دغه اوبه د چینو او زیمونو ځمکو په وسیله بهیږی (یا ئی دروو د ځمکی په سر هم په تالابونو ډندونو او نورو ظرفو کښی).

﴿وَإِنَّا عَلَىٰ ذَهَابٍ بِهِ لَقَادِرُونَ﴾ او بیشکه مونږ په بیولو ورکولو د دی اوبو هرومرو (خامخا) قادر یو لکه چه قادر یو په نازلولو ئی هم) یعنی که باران دربناندی ونه واروو نو څوک به ئی دربناندی اوروی؟ او که ئی در باندی اوروو خو د شرب ارواء او د استفادی وسائل او وسائط درڅخه واخلو او تاسی ته داسی قوت او قدرت در نه کړو چه تری ګټور (فائده مند) شئ (مثلاً دومره ئی ژوری بوځو چه تاسو ئی ونه شئ ایستلی یا ئی ژر تر ژره وچی او بیا ئی په هوا کښی ګډی کړو یا ئی تروی او سخا کړو دغه کارونه او نوری ګردی (تولی) چاری ځمونږ له قدرته پوره دی نو ستاسی له لاسونو څخه څه پوره دی او څه به کولی شئ؟.

فَأَنشَأْنَا لَكُم بِهِ جَنَّاتٍ مِّن نَّخِيلٍ وَأَعْنَابٍ لَّكُمْ فِيهَا فَوَاكِهُ كَثِيرَةٌ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿١٩﴾

پس پیدا کړی دی مونږ تاسی ته په دی (اوبو) سره باغونه رنګارنګ له خرماګانو او (له) انګورو چه شته تاسی ته په دی (باغونو) کښې میوی ډیری او له دغو (باغونو) څخه خورئ تاسی (میوی)

**تفسیر:** یعنی په هغو د پسرلی او بهار د لیدلو څخه خوشالیږئ او د هغو د حاصلاتو څخه ځینو د تفکه په ډول (طریقه) او ځینی د غذا په صورت استعمالوئ!.

وَشَجَرَةً تَخْرُجُ مِنْ طُورِ سَيْنَاءَ تَنْبُتُ بِالدُّهْنِ وَصِبْغٍ لِّلْاٰكِلِيْنَ ﴿٢٠﴾

او (بل پیدا مو کړه هغه) ونه چه وځی له (غره د) طور سینا څخه چه زرغونیږی له غوړو سره او له انګولی (سالن) سره دپاره د خوړونکیو.

**تفسیر:** یعنی د خوونی (زیتون) ونه چه تری تیل ووځی چه د مبلو او نورو په مصرف رسیږی او ډیر زیات خلق ئی د کتغ (سالن) په شان استعمالوی - د خوونی ذکر ئی په خصوصیت سره وفرمایه ځکه چه د هغه فوائد زیات دی او د یوه مخصوص فضل او شرف حیثیت لری. ځکه د «التین» په سورت کښې پری قسم هم یاد شوی دی د طور غره په لوری نسبت کول هم د هم دغی (خوونی) زیتون د فضیلت او برکت ښکارولو لپاره دی ځکه چه په هغه وقت کښې به هلته د دغی خوونی ونی ډیری زیاتی وی.

وَ اِنَّ لَكُمْ فِي الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً ۗ نُسْقِيْكُمْ مِّمَّا فِيْ بُطُوْنِهَا وَلَكُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ كَثِيْرَةٌ وَّمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ﴿٢١﴾

او بیشکه چه تاسی ته په څاروو کښې خامخا عبرت دی چه څښوؤ مونږ تاسی ته له هغو پیو نه چه په ګیډو د دوی کښې دی او شته تاسی ته په دغو (څاروو کښې) منافع (ګټی فائدی) ډیری او له دوی (د ځینو اجزاؤ څخه خورئ تاسی (شودی غوښی او نور)

**تفسیر:** د نباتاتو (ترکودی) څخه وروسته د حیواناتو (ساکښانو) ذکر دی یعنی د حیواناتو شودی مونږ په خپل قدرت سره پر تاسی څښوو او ډیری زیاتی فائدی مو د تاسی لپاره د دغو حیواناتو په وجود کښې ایښی دی تر دی چه د ځینو حیواناتو د غوښو خوراک مو هم پر تاسی حلال کړی دی .

وَعَلَيۡهَا وَعَلَى ٱلۡفُلۡكِ تُحۡمَلُونَ ﴿٢٢﴾

او پر دغو (څاروو) او پر بيړيو باندې باروليٰ شئ تاسي (په بر او بحر كښې).

**تفسير:** يعني په وچه كښې د حيواناتو (او نورو نقليهؤ وسائلو) په وسيله او په اوبو كښې د بيړيو كشتيو (او جهازونو او نورو نقليهؤ وسائطو) په واسطه (او هم داسې په هوا او نورو كښې) نقل او حركت كوئ او له يوه لرې ځايه بل لرې ځاى ته درومئ! او ډير درانه شيان او سامان مو پرې باروئ د كشتئ په مناسبت وروسته د نوح عليه السلام قصه هم ذكر فرمائي چه په څه شان الله تعالىٰ پرې بيړې جوړه كړه چه د عظيم طوفان په وقت كښې د مؤمنينو د نجات ذريعه وګرځيده، بيا د نوح عليه السلام په مناسبت د ځينو نورو انبياؤ واقعات هم ذكر فرمائي ښائي دلته د دغو قصصو په بيان كښې دغه طرف ته هم اشاره وى لكه چه په پاس آيات كښې ستاسي د جسماني ضرورياتو د انتظام مذكور ؤ هم داسې پاك رحمٰن ستاسي د روحاني حوائجو او ضرورياتو سر انجامولو دپاره د دنيا له ابتداء څخه د وحى او رسالت سلسله هم قائمه فرمايلې ده يا داسې ووايئ چه پاس د قدرت د دلائلو او نښو د بيان فرمايلو څخه د توحيد په لورى متوجه كول مقصود ؤ، نو د هغه د تكميل دپاره ئې دلته د نبوت سلسله شروع كړه چه په ضمن كښې د انبياؤ عليهم السلام او د هغه د متبعينو د ښو انجامونو او د مكذبينو او معاندينو د بدو انجامونو تذكره ده څو مو ښه په زړه كښې ځاى ونيسي.

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ فَقَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓۚ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٢٣﴾ فَقَالَ ٱلۡمَلَؤُاْ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦ مَا هَٰذَآ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ يُرِيدُ أَن يَتَفَضَّلَ عَلَيۡكُمۡ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَأَنزَلَ مَلَٰٓئِكَةٗ مَّا سَمِعۡنَا بِهَٰذَا فِيٓ ءَابَآئِنَا ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٢٤﴾

او خامخا په تحقيق ليږلى ؤ مونږ نوح قوم خپل ته نو ووئيل (نوح) اى قومه ځما عبادت كوئ تاسي (يوائحې) د الله نشته تاسي ته بل هيڅ معبود غير له دغه (الله) آيا پس نه ويريږئ تاسي (له عذابه د الله) پس ووئيل هغو مشرانو چه كافران شوى وو له قومه د دغه (نوح خپلو اتباعو ته) چه نه دى دا نوح مګر

يو انسان دى په شان ستاسى اراده لرى د دى خبرى چه مشر شى پر تاسى باندى او كه اراده وفرمائى الله (د ليږلو د رسول انسانانو ته نو) خامخا ليږلى به ئى وى پرښتى (نه انسانان) نه دى اوريدلى مونږ دا (چه رسول بنى‌آدم وى يا توحيد) په هغو پلرونو څمونږ كښى چه پخوا وو

**تفسير:** يعنى په ده كښى څه فرق شته چه دى رسول شى او تاسى نه شئ؟. دى غواړى چه مشرتوب ځان ته حاصل كړى نو ځكه دغه پلمه (تدبير) او چل ئى جوړ كړى دى. كه نه كه الله تعالىٰ رسول ليږه نو بل سړى پرى دريدلى ۆ چه هم دا ئى راليږلى دى - او پرښته به ئى نه وى راليږلى. مونږ داسى عجيبه خبره له سره نه ده اوريدلى چه يو څمونږ په شان سړى او معمولى انسان د الله تعالىٰ رسول شى او نورو ګردو (تولو) معبودانو ته بد ووائى او له منځه ئى ورك كړى او داسى دعوت او بلنه وكړى چه تاسى يواځى د احد او واحد الله تعالىٰ عبادت وكړئ! او بل هيڅوك مه منئ! (دغه د نوح عليه السلام د زمانى د كفارو وينا ده).

إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌۢ بِهِۦ جِنَّةٌ فَتَرَبَّصُوا۟ بِهِۦ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿٢٥﴾

نه دى (دا نوح) مګر يو داسى سړى دى چه په ده پورى نښتى دى ليونتوب سودا پس انتظار كوئ تاسى ده ته تر يوه وقته پورى (چه جوړ شى يا مړ شى)

**تفسير:** دغه د نوح عليه السلام د زمانى د كفارو وينا ده چه معلوميږى چه د دى غريب دماغ خراب او فكر ئى له كاره وتلى دى كه نه د ګرد (تول) قوم په خلاف او خپلو پلرونو او نيكونو له اصوله مخالف داسى خبرى به ئى ولى له خولى ايستلى چه هيڅوك پرى يقين او باور نشى كولى! آيا كه دا كار ښكاره ليونتوب نه دى نو څه دى؟ ښه خو دا ده چه تاسى څو ورځى صبر وكړئ! او انتظار وكړئ! ګوندى څه مدت وروسته دى په سد او په هوش راشى - او د جنون او د سودا د دغى دورى څخه افاقه ومومى او جوړ شى - يا دى پخپلو هم دغو ويلو ويلو كښى مړ شى او سا ئى وخيژى او دغه قصه پاى (آخر) ته ورسيږى (العياذ بالله)

قَالَ رَبِّ ٱنصُرْنِى بِمَا كَذَّبُونِ ﴿٢٦﴾

وويل (نوح) اى ربه ځما مدد وكړه له ماسره په سبب د دى چه تكذيب ئى وكړ ځما.

**تفسير:** يعنى كله چه د نوح عليه السلام ګرد (تول) زيار (محنت) او كوښښ بيكاره ثابت شو

ـ او د نهه نیمو سوو کلونو ګرد (تول) زیار (محنت) او زحمت ئی ورته بی ثمره او بی نتیجی څرګند شو. او موفق نه شو چه دغه کفار د ضلالت له لیاری څخه چپ او د هدایت پر سمه لیاره ئی ور روان کړی نو د الله تعالیٰ په دربار کښی ئی عرض او فریاد وکړ چه یاالله! اوس د دغو اشقیاؤ په مقابل کښی ځما امداد وفرمایه ځکه چه ظاهراً دغه خلق ځما د تکذیب څخه مخ ګرځوونکی نه دی او د نورو خپلو راتلونکو نسلونو او اولادونو افکار او عقائد هم خرابوونکی دی.

فَأَوْحَيْنَآ إِلَيْهِ أَنِ ٱصْنَعِ ٱلْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا فَإِذَا جَآءَ أَمْرُنَا وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ فَٱسْلُكْ فِيهَا مِن كُلٍّ زَوْجَيْنِ ٱثْنَيْنِ وَأَهْلَكَ إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيْهِ ٱلْقَوْلُ مِنْهُمْ وَلَا تُخَٰطِبْنِى فِى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ ﴿٢٧﴾

پس وحی وکړه مونږ دغه (نوح) ته داسی چه اوس جوړه کړه یوه بیړی په لیدلو (ساتلو) ځمونږ او په وحی (امر او ښودنی) ځمونږ پس کله چه راغی امر (حکم) ځمونږ (پر نزول د عذاب سره) او راوختیده (په اوبو) تنور پس ورننباسه (سواره کړه) په دی بیړی کښی له هره قسمه جوړه جوړه دوه دوه (نر او ښځه) او اهل (بیت) خپل (یا مؤمنان) مګر مه ننه باسه هغه څوک چه ړومبی شوی ده په ده خبره (د عذاب) له دوی نه او مه کوه خبری له ما سره په باب د هغو کسانو کښی چه ظلم ئی کړی دی (په نفسونو خپلو باندی چه) بیشکه دوی غرق کول شی.

**تفسیر:** دغه قصه پخوا له دی نه د «هود» په سورت او نورو ځایونو کښی تیره شوی ده هلته دی د دغو الفاظو تفسیر ولوست شی.

یعنی کفار اګر که ستا له کورنئ څخه هم وی له خپله ځانه سره ئی مه سوروه! ځکه چه د الله تعالیٰ له درباره د عذاب قطعی حکم صادر شوی دی او د دغی فیصلی اجراء او انفاذ یو حتمی او ضروری کار دی. اوس له ظالمانو څخه د هیڅ یوه د نجات او خلاصی دپاره هیڅ یوه سعی او کوښښ مه کوه!

فَإِذَا اسْتَوَيْتَ أَنتَ وَمَن مَّعَكَ عَلَى الْفُلْكِ فَقُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي نَجَّانَا مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿۲۸﴾

نو کله چه برابر شوی وختلی (ای نوحه) ته او هغه (مؤمنان) چه له تا سره دی پر بیړی باندی نو ووایه چه ټول حمد ثناء ده خاص هغه الله ته چه خلاص ئی کړو مونږ له قومه ظالمانو (مشرکانو) څخه.

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ مونږ له دوی څخنی بیل کړو او له عذابه څخه ئی مأمون او مصئون وساتلو.

وَقُل رَّبِّ أَنزِلْنِي مُنزَلًا مُّبَارَكًا وَأَنتَ خَيْرُ الْمُنزِلِينَ ﴿۲۹﴾

ووایه (ای نوح په وقت د کوزیدو د تا له بیړی نه) ای ربه ځما کوز کړه ما په یو داسی ځای کښی چه مبارک برکتناک وی حال دا چه ته خیر (ډیر غوره) له ټولو کوزونکیو څخه ئی.

**تفسیر:** یعنی په بیړی کښی ښه د هوسائی (آسانئ) او آرام ځای راکړه! او په کوم ځای کښی چه مو له بیړی څخه ښکته کوی هلته هم څه ربړ (زحمت) او تکلیف راپیښ نشی! او په هر ډول (طریقه) او په هر ځای کښی دی ستا برکت او رحمت ځما له حاله سره مل وی!

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ وَإِن كُنَّا لَمُبْتَلِينَ ﴿۳۰﴾

بیشکه په دغه (قصه د نوح) کښی خامخا دلائل (د عبرت او قدرت ځمونږ) دی او بیشکه یو مونږ خامخا ازموینښت کوونکی (د بندګانو).

**تفسیر:** چه کوم یو د دغو د اوریدلو څخه عبرت او نصیحت حاصلوی؟ او کوم یو ئی نه حاصلوی ﴿ وَلَقَد تَّرَكْنَاهَا آيَةً فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴾ (د القمر (۱) رکوع (۱۵) آیة (۲۷) جزء).

ثُمَّ اَنْشَاْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ قَرْنًا اٰخَرِیْنَ ﴿۳۱﴾ فَاَرْسَلْنَا فِیْهِمْ رَسُوْلًا
مِّنْهُمْ اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَیْرُهٗ ؕ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۳۲﴾ وَقَالَ
الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِهِ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِلِقَآءِ الْاٰخِرَةِ وَاَتْرَفْنٰهُمْ
فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا ۙ مَا هٰذَاۤ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ۙ یَاْكُلُ مِمَّا تَاْكُلُوْنَ مِنْهُ وَیَشْرَبُ مِمَّا تَشْرَبُوْنَ ﴿۳۳﴾

بیا پیدا کړ مونږ پس له (هلاکه د) قومه د دغه نوح) یو اهل د زمانی نور (عادیان یا ثمودیان) پس ولیږه مونږ په هغو کښې یو رسول (هود یا صالح) له دوی ځخه (وویل مونږ په ژبه د هغه رسول دوی ته داسی) چه عبادت کوئ تاسی (یوائحی) د الله نشته تاسی ته بل هیڅ برحق معبود بې له الله آیا پس نه ویریږئ تاسی (له عذابه د الله). او وویل مشرانو له قومه د دغه (نبی) ځخه هغه کسان چه کافران شوی وو او نسبت د دروغو ئی کړی وو ملاقات د آخرت ته او نعمتونه ورکړی ۆ مونږ دوی ته په دغه ژوندون لږ خسیس کښې نه دی دا (نبی) مگر یو بشر سړی دی په مثل د تاسی چه خوری له هغه (ځیزه) چه خورئ ئی تاسی له هغه نه او ځښی له هغه ځیز چه ځښئ ئی تاسی له هغه نه

**تفسیر:** یعنی عادیان یا ثمودیان پر دی خبری باندی نه وو معتقد چه وروسته له مرگه به یوه ورځ د پاک الله سره مخامخ کیدونکی یو ۔ او داسی به ئی گڼل چه فقط هم دغه د دنیا ژوندون او د هغی عیش او آرام ځمونږ په برخه کښې دی ۔ او پرته (علاوه) د معاش د معاد هیڅ فکر به له هغوی سره نه ۆ ۔ گواکی دنیوی عیش او عشرت د هغوی د نیالی (تولایی) او بړستنی په شان گرځیدلی ۆ نو ځکه د خپلو رسولانو د تبلیغ او ارشاد په مقابل کښې به ئی داسی چټی (بیکاره) خبری کولی چه نه دی دغه ویونکی مگر یو سړی دی په مثل د نورو چه خوری له هغه ځیزه چه خورئ تاسی له هغه نه او ځښی له هغه ځیزه چه ځښئ ئی تاسی له هغه نه یعنی په ظاهر کښې هیڅ یو داسی امتیاز او خبره په ده کښې نشته چه تاسو ئی نه لرئ.

وَلَىِٕنْ اَطَعْتُمْ بَشَرًا مِّثْلَكُمْ ۙ اِنَّكُمْ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ ﴿۳۴﴾

او (قسم دی) خامخا که فرمان یوړو تاسی د یوه انسان په شان خپل بیشکه چه تاسی په هغه وقت کښې خامخا له زیانکارانو ځخه یئ.

**تفسیر:** یعنی له دی نه به لویه خرابی او ذلت څه وی چه د خپل ځان په شان د یوه بل معمولی

انسان سړی تابع ـ خادم او مطیع شئ او خامخا هغه خپل متبوع، مخدوم او مطاع وګرځوئ!.

أَيَعِدُكُمْ أَنَّكُمْ إِذَا مِتُّمْ وَكُنتُمْ تُرَابًا وَعِظَامًا أَنَّكُم مُّخْرَجُونَ ﴿٣٥﴾ هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا تُوعَدُونَ ﴿٣٦﴾

آیا وعده کوی له تاسی سره (او ویروی مو دغه هود یا صالح په دی (چه بیشکه تاسی کله چه مړه شئ او شئ خاوری او هډوکی نو بیشکه چه تاسی به راایستل کیږئ (له ځمکی په بعث سره) ډیر لری دی ډیر لری دی (چیری کیدی شی) هغه څیز چه تاسی سره ئی وعده کولی شی.

**تفسیر:** دغه هم د کفارو وینا ده یعنی څومره له عقل څخه بعیده خبره وائی چه د وراسته هډوکی هغه بخرکی چه له خاورو سره بیخی ګډود شوی دی بیا له قبرونو څخه د انسانانو په شکل ژوندی راپاڅولی کیږی. نو ښه تاسی (ای کفارو!) پخپله فکر وکړئ چه په داسی چټی (بیکاره) او مهملو خبرو باندی څوک باور کولی شی چه له عقله او صحت څخه لری وی؟.

إِنْ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوثِينَ ﴿٣٧﴾

نه دی دا ژوندون مګر هم دا ژوندون ځمونږ د دنیا چه مرو او ژوندی کیږو او نه یو مونږ بیا ژوندی پورته کړی شوی وروسته له مرګه

**تفسیر:** یعنی (دغه کفار وائی) چیری دی آخرت او چیری دی حساب او کتاب په څه چه مونږ پوهیږو خو هم دغه د دنیا موجوده سلسله ده چه مونږ ئی ګورو او هغه هم دا یو ژوندی کیدل او یو مړه کیدل چه د ګردو (تولو) تر سترګو لاندی جریان لری یو څیږی (پیدا کیږی) او بل مری او زیات له دی نه بل هیڅ شی نشته.

إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا وَمَا نَحْنُ لَهُ بِمُؤْمِنِينَ ﴿٣٨﴾

نه دی دغه (هود یا صالح) مګر یو سړی چه تړلی ئی دی پر الله دروغ او نه یو مونږ ده ته ایمان راوړونکی.

**تفسیر:** یعنی کفار وائی د دغه سړی دغه وینا چه زه د الله نبی یم او الله مړی بیا له سره ژوندی کوی ثواب او عقاب جزاء او سزا ورکوی ـ دغه دواړه دعاوی داسی دی چه هغه مونږ له سره نه شو منلی نو خامخا داسی جګړی نښلولو او د سر درد پیدا کولو ته څه حاجت پاتی دی؟ او له هغه څخه څه فائده عائده کیږی؟ نو بالاخر پیغمبر د کفارو د داسی خبرو اترو څخه سخت متأثر شو او له هغه منکرانو څخه بی‌هیلی او نا امیده شو، او داسی دعا ئی وکړه

قَالَ رَبِّ انْصُرْنِیْ بِمَا كَذَّبُوْنِ ﴿۳۹﴾ قَالَ عَمَّا قَلِیْلٍ لَّیُصْبِحُنَّ نٰدِمِیْنَ ﴿۴۰﴾

وویل (هود یا صالح) ای ربه ځما مدد وکړه له ما سره په سبب د دی چه دروغجن ئی وبللم زه (او ځما رسالت ئی ونه مانه) نو وفرمایل (الله هود یا صالح ته چه) پس له لږ مدت خامخا وبه ګرځی (دغه عادیان یا ثمودیان) پښیمانه (په دغه کفر او تکذیب خپل)،

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ عذاب ورتلونکی دی چه وروسته له هغه به افسوس او ارمان کول هیڅ د دوی په درد نه خوری او نه به څه نفع وررسوی.

فَاَخَذَتْهُمُ الصَّیْحَةُ بِالْحَقِّ

پس ونیول دوی چغی د هلاک په حق (او عدل) سره

**تفسیر:** له دی نه په ښکاره ډول (طریقه) دغه مترشح کیږی چه دغه قصه د «ثمود» وه چه د هغه امت په سخت غږ سره مړ شوی دی او پر «عاد» سخت باد آلوتی ؤ. او چا ویلی دی چه دغه قصه د عادیانو ده چه د اعراف په سورت او په هود او په شعراء کښی په قصی د نوح پسی هم دغه ذکر دی نو بناء پر دغه هر بیخ کن عذاب ته «صیحه» وایه شی. نو ځکه دلته هم صیحه ذکر شوه.

فَجَعَلْنٰهُمْ غُثَآءً ۚ فَبُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِیْنَ ﴿۴۱﴾

پس (هلاک شول نو) وګرځول مونږ دوی شاوړی (خس خاشاک د سیلاب) پس لری والی دی قوم ظالمانو ته (له رحمته د الله).

**تفسیر:** یعنی لکه چه سیلاب (ځپان) خس او خاشاک له خپله ځانه سره وړی هم داسی د الله

تعالیٰ عذاب په سیلاب کښې دوی هم وبهیدل او لاهو شول.

ثُمَّ اَنۡشَاۡنَا مِنۡۢ بَعۡدِهِمۡ قُرُوۡنًا اٰخَرِيۡنَ ۝۴۲
مَا تَسۡبِقُ مِنۡ اُمَّةٍ اَجَلَهَا وَمَا يَسۡتَاۡخِرُوۡنَ ۝۴۳

بیا پیدا کړ مونږ وروسته له هغو (ثمودیانو یا عادیانو) اهل د زمانو نور (لکه قوم د لوط او شعیب). نشي ړومبی کیدی هیڅ قوم له وعدی مقرری خپلی او نه وروستی پاتی کیدی شي تری.

**تفسیر:** یعني هر قوم چه د خپلو انبیاؤ تکذیب وکړی ګرد (تول) په همغو خپلو مقرره ؤ وعدو سره هلاک کیږی، هر میعاد او هره نیته چه د هر قوم دپاره مقرره شوی ده هغه د یوی شیبی (دقیقی) له مخی هم نه وړاندی او نه وروسته کیږی.

ثُمَّ اَرۡسَلۡنَا رُسُلَنَا تَتۡرَا ؕ كُلَّمَا جَآءَ اُمَّةً رَّسُوۡلُهَا كَذَّبُوۡهُ فَاَتۡبَعۡنَا بَعۡضَهُمۡ
بَعۡضًا وَّجَعَلۡنٰهُمۡ اَحَادِيۡثَ ۚ فَبُعۡدًا لِّقَوۡمٍ لَّا يُؤۡمِنُوۡنَ ۝۴۴

بیا ولیږل مونږ رسولان خپل حال دا چه یو په بل پسی پیوست ؤ هر کله چه رابه غی کوم امت ته رسول د دوی نو دروغجن به ئی وباله دی پس پرله پسی به کړل مونږ ځینی د دوی په ځینو نورو (په هلاکولو کښې) او وګرځول مونږ دوی تشی قصی (د تعجب په عالم کښې)، پس لری والی دی (د الله له رحمته) هغه قوم ته چه نه راوړی ایمان (په مؤمن به شیانو باندی).

**تفسیر:** یعني الله تعالیٰ د رسولانو قطار (لیر) او سلسله وتړله او یو په بل پسی ئی نبی ورلیږه ـ او د مکذبینو هم د یوه پسی د بل تباه فناء او بربادیدل جاری ؤ ـ له یوه جانبه د انبیاؤ بعثت او له بل جانب د منکرینو د اهلاک لمبرونه به سره لګیدل ـ لکه چه په هم دغه سلسله کښې دیر اقوام سره تباه شول چه د هغوی څخه ماسواء د حیرت او عبرت ډکی قصی او افسانی بل هیڅ شی نه دی پاتی ـ او نن د هغوی داستانونه یواځی د پند نصیحت او عبرت دپاره ویلی او آورولی کیږی.

(تتری) اصلاً (وتری) وه چه (یا) ئی د تانیث ده او (واو) ئی لکه (تراث) په (تاء) سره مبدل

شو چه له (وتر) ځخه ماخوذ دی او مقابل د جفت دی یعنی یو یو.

ثُمَّ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ وَأَخَاهُ هَارُونَ بِآيَاتِنَا وَسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿٤٥﴾ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَئِهِ فَاسْتَكْبَرُوا وَكَانُوا قَوْمًا عَالِينَ ﴿٤٦﴾

بیا ولیږه مونږ موسیٰ او ورور د ده هارون په دلائلو (د قدرت او هغو معجزو) خپلو سره او په برهان دلیل سند ښکاره سره. طرف د فرعون او قوم د ده (فرعونیانو) ته پس کبر سرکشي ئی وکړه (له ایمانه) حال دا چه ؤ دوی قوم متکبر (سرکش پر خلاف د موسیٰ)

**تفسیر:** نو ځکه د الله تعالیٰ پیغام ئی په خاطر کښی رانهووړ چه د کبر او غرور نشی د دوی دماغونه بیخی خراب او مختل کړی ؤ.

فَقَالُوا أَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا وَقَوْمُهُمَا لَنَا عَابِدُونَ ﴿٤٧﴾

پس وویل (قبطیانو) آیا پس ایمان راوړو مونږ پر دوو سړیو په مثل شان ځمونږ حال دا چه قوم د دوی (سبطیان) مونږ ته خادمان (مریان) دی.

**تفسیر:** یعنی د موسیٰ علیه السلام او هارون علیه السلام قوم بنی اسرآئیل خو ځمونږ مرییتوب او مزدوری کوی نو د دوی له منځه مونږ د دغو دوؤ سړیو سیادت او مشرتوب څرنګه منلی شو؟

فَكَذَّبُوهُمَا فَكَانُوا مِنَ الْمُهْلَكِينَ ﴿٤٨﴾ وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ ﴿٤٩﴾

پس دروغجن وبلل دغو (موسیٰ او هارون لره قبطیانو) پس شول (قبطیان) له هلاک کړیو شویو (په غرق سره) او خامخا په تحقیق ورکړی ؤ مونږ موسیٰ ته کتاب (د توریت) ښائی چه دغه (بنی اسرائیل) سمه صافه لیاره ومومی (په دی توریت سره).

**تفسير:** يعني د فرعون له اهلاک څخه وروسته مونږ بني‌اسرآئيلو ته توريت شريف مرحمت کړه څو خلق پر هغه تګ او عمل وکړی او تر جنت او د الٰهی د رضاء تر منزل پورې ورسيدی شي.

---

وَجَعَلْنَا ابْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُ آيَةً وَآوَيْنَاهُمَا إِلَىٰ رَبْوَةٍ ذَاتِ قَرَارٍ وَمَعِينٍ ۝

---

او ګرځولی وه مونږ (قصه د) ځوی د مريمې او د مور د ده (مريمې) (يو لوی) دليل (د قدرت) او مونږ ځای ورکړی راوستی ؤ دوی هسکې (اوچتې) ځمکې ته چه خاونده د قرار ده (چه اوسيدونکی ئې په ارام دی) او خاونده د اوبو پاکو صافو بهيدونکو ده.

---

**تفسير:** يعني دغه د الٰهيه ؤ قدرتونو له دلائلو او نښو څخه دی چه يواځې د مور له ګېډې ئې بې له پلاره حضرت عيسیٰ عليه السلام پيدا کړی دی لکه چه په «آل عمران» او د «مريم» په سورت کښې د دی تقرير ليکلی شوی دی.
(«ربوة» هسکې (اوچتې) ځمکې ته وايه شي چه بيت المقدس يا دمشق يا مصر ؤ او پخپلو نورو شاؤ خوا ځمکو باندې لوړه ده) ښائی دا هم هغه هسکه (وچته) ځمکه يا غونډې وی چه د لنګون په وقت کښې هلته حضرت بی بی مريمې رضی الله تعالیٰ عنها تشريف درلود (لرلو). لکه چه د «مريم» د سورت دغه آيات پرې دلالت کوی﴿ فَنَادَاهَا مِن تَحْتِهَا أَلَّا تَحْزَنِي قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا وَهُزِّي إِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ تُسَاقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا ﴾ چه دغه ځای
هسک (اوچت) ؤ او ترې لاندې چينه يا وياله بهيده ـ او د خرما ونه هغه ته نژدې وه (کذافسره ابن کثير رحمه الله) ليکن نور مفسرين داسې ليکې چه دغه د حضرت مسيح د هلکتوب د وقت معامله ده «هيرودس» نامې يوه ظالم باچا له نجوميانو څخه آوريدلی ؤ چه حضرت عيسیٰ عليه السلام به مشر او سردار کيږی نو دغه باچا به هم هغه هلکتوب کښې له ده سره دښمن شوی ؤ ـ او غوښت ئې چه په کومه پلمه (تدبير) سره ئې ووژنی حضرت بی‌بی مريم رضی الله تعالیٰ عنها په ربانی الهام سره ماموره شوه چه دی له خپله ځانه سره (مصر) ته بوځي ـ او د هغه ظالم باچا د مړ کيدلو څخه وروسته بيرته شام ته راغله لکه چه د «متی» په انجيل کښې دغه واقعه مذکوره ده او د مصر هسکتوب (اوچتوالی) د نيل د سيند په اعتبار دی که نه دوبيده به او «ماء معين» د نيل اوبه دی لکه چه پاس مو وليکل ځينی له «ربوة» څخه چه د هسکې (اوچتې) ځمکې په معنی ده شام يا فلسطين مرادوی او دغه خبره هيڅ بعيده نه ده په هم هغه هسکه (اوچته) ځمکه کښې چه دی ته د ولادت په وقت کښې ځای ورکړی شوی ؤ ـ د دغې خطری او ويری په وقت کښې هم هغلته ورته پناه ورکړی شوی وی والله اعلم. په هر حال له اهل الاسلام څخه هيڅا له

«ربوة» څخه «کشمیر» نه دی مراد کړی ـ او نه د حضرت مسیح قبر یې په «کشمیر» کښې ښوولی دی. البته د مولٰنا شبیراحمد العثمانی الهندی د ملک او د زمانی ځینو زائغینو له «ربوة» څخه «کشمیر» مراد کړی دی چه د هغه ثبوت له تاریخی حیثیته نشته او محض کذب او دروغ تړل دی د (خان یار) په محله د (سری نګر) په ښار کښې هغه قبر چه د «یوز آسف» په نامه مشهور دی او د هغه په نسبت د «تاریخ اعظمی» مصنف محض عام افواه نقل کړی دی چه «خلق دغه قبر د کوم نبی قبر ښیی دغه کوم شهزاده ؤ چه له بل ملک څخه دلته راغلی دی» هغه ته د حضرت عیسٰی علیهٰ السلام قبر ویل په انتهائی درجه بی‌حیائی او سفاهت دی. داسی اتکلی او له خپله ځان په جوړ کړیو چرتونو (خیالونو) سره د حضرت مسیح علیه السلام حیات باطل درول پرته (علاوه) له خبط او جنونه بل هیڅ شی نه دی که مو د دغه قبر تحقیق مطلوب وی او دغه مو په کار وی چه «یوز آسف» څوک ؤ؟ نو د امرتسری جناب منشی حبیب الله صاحب هغه رساله مطالعه کړئ چه خاص پر هم دغه موضوع په نهایت تحقیق او تدقیق سره لیکلی شوی ده ـ او په هغی کښی ئی د دغه مهمل خیال بوده او تنسته ئی بیخی سره شلولی او په هواء ئی الوځولی ده. فجزاه الله تعالٰی عناوعن سائر المسلمین احسن الجزاء!

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلرُّسُلُ كُلُواْ مِنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَٱعۡمَلُواْ صَٰلِحًاۖ

---

ای رسولانو خورئ تاسی له طیباتو (پاکیزه ؤ طعامو) څخه او وکړئ تاسی ښه (عملونه)

---

**تفسیر:** یعنی د ګردو (تولو) انبیاؤ په دین کښی هم دغه یو حکم شته چه حلال خوراک له حلالی لیاری څخه ګټئ! او نیک کارونه کوئ! او ښائی چه په نیکو کارونو کښی ګرد (تول) خلق سره مشغول او مصروف اوسی لکه چه ګردو (تولو) انبیاؤ په نهایت مضبوطی او استقامت سره د حلال اکل ـ د مقال صدق ـ او د نیکو اعمالو په مواظبت توصیه او خپل امت ته تأکیدات کول. د عظیم‌الشان قرآن په بل ځای کښی دغسی حکم چه دلته رسولانو ته ورکړی شوی دی عامةالمؤمنین ته ورکړی شوی دی په دغه کښی د نصرانیانو د رهبانیت تردید هم شوی دی چه د حضرت عیسٰی علیه السلام له ذکره سره خاص مناسبت لری. له احادیثو څخه معلومیږی چه «د هر چا خوړل، څښل، اغوستل چه له حرامو څخه وی د هغه د دعاء د قبول توقع نه ښائی چه وکړه شی» په ځینو احادیثو کښی دی «هغه غوښه چه د حرامو څخه زرغونه شوی وی د دوزخ اور د هغه زیات حقدار دی.» (العیاذبالله).

---

إِنِّي بِمَا تَعۡمَلُونَ عَلِيمٞ ۝٥١

---

بېشکه زه پر هغو کارونو چه کوئ ئی تاسی ښه عالم خبردار یم.

**تفسیر:** یعنی حلال خوړونکیو او نیک کار کوونکیو ته ښائی چه داسی عقیده ولری چه الله تعالیٰ د ده له ګردو (تولو) پټو او ښکاره ؤ احوالو او افعالو څخه ښه عالم دی او له هغه سره موافق به له هر چا سره معامله کوی. دغه اګر که له رسولانو سره پخپلو زمانو کښی خطاب دی مګر په واقع کښی د دوی امت ته د دغه مطلب اورول مقصود دی.

وَإِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَٰحِدَةً وَأَنَا۠ رَبُّكُمْ فَٱتَّقُونِ ﴿٥٢﴾ فَتَقَطَّعُوٓا۟ أَمْرَهُم بَيْنَهُمْ زُبُرًا ط

او بېشکه دا (سماوی دین چه توحید او نور مؤمن به شیان دی ای رسولانو) دین د تاسی (او د امتیانو د تاسی د تولو) دی په دی حال کښی چه دین یو دی او زه رب د تاسی یم نو وویرېږئ له ما. پس پری کړ (امتیانو د دوی) دین خپل په منځ خپل کښی توتی توتی

**تفسیر:** یعنی د اصولو په اعتبار د ګردو (تولو) انبیاؤ دین او ملت یو او د ګردو (تولو) الله هم یو دی چه د هغه د عصیان څخه تل ویره په کار ده لیکن خلقو په دغه واحد اصل کښی اختلاف وغورځاوه او د دین اصل ئی سره توتی توتی کړ او بیلی بیلی لیاری ئی په کښی جوړی کړی، پخپل سر د آراؤ او اهواؤ په متابعت په سلهاو فرقی او مذاهب جوړ شول انبیاؤ دغه تفریق خلقو ته نه دی ښوولی، د دوی په نزد د ازمنهؤ او امکنهؤ او نور اختلاف صرف فروعی اختلاف ؤ او په اصول‌الدین کښی ګرد (تول) سره بالکلیه متفق ؤ ـ مفسرینو عموماً د دی آیت تقریر هم داسی کړی دی لیکن حضرت شاه صاحب لیکی ـ «د هر نبی په لاس الله تعالیٰ هره هغه خرابی چه په هغه وقت کښی د خلقو په منځ کښی وه اصلاح فرمایلی ده، وروستنیو خلقو داسی وګڼل چه د هغه احکام سره بیل بیل دی، بالاخر څمونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په معرفت د دغو ګردو (تولو) خرابیو او بدعتونو اصلاح او د ګردو (تولو) خرابیو علاج یو ځای ور وویښول شو، اوس ګرد (تول) حقه ادیان سره یو ځای او یو دین شوی دی» او ګرد (تول) اقوام تر یوه بیرغ لاندی تول کړی شوی دی.

كُلُّ حِزْبٍۭ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ ﴿٥٣﴾

چه هر یو حزب ګوند (له دوی نه) په هغه (باطل دین) چه له دوی سره دی

خوشال دی

**تفسیر:** (ښاکی پری وهی) یعنی داسی به ئی ګڼل چه یواځی هم دغه مونږ پر حق دین یو او ځمونږ هم دغه لیاره سمه او صافه لیاره ده.

عاقل په پوه نازیږی ؤ مجنون په جنون ـ کل حزب بما لدیهم فرحون

فَذَرْهُمْ فِي غَمْرَتِهِمْ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿٥٤﴾

پس پریږده (ای محمده!) دوی په ګمراهی خپلی کښی تر یوه وقته (د مرګه) پوری.

**تفسیر:** یعنی هغو کسانو چه د انبیاؤ په متفقهؤ هدایاتو کښی ګوندونه (ډلی) جوړ کړل او سره بیلی بیلی فرقی او ملتونه ئی قائم کړل ـ او هره فرقه یواځی پر هم هغو خپلو عقائدو او خیالاتو د زړه له کومی (منځه) تینګه ولاړه ده او په هیڅ ډول (طریقه) له هغه څخه مخ نه اړوی، اګر که ته ډیر پند او نصیحت هم وفرمائی. نو تاسی په دغه غم کښی خپل ځان زیات مه کړوئ! بلکه دوی ته لږ مهلت ورکړئ! چه دوی د غفلت او جهالت په نشو کښی ډوب او نشه پراته وی څو هغه موعوده ساعت ورسیږی او د دوی سترګی تیغی تیغی پاتی شی ـ یعنی موت یا د الله تعالیٰ عذاب د دوی پر سرونو او شاو خوا وګرځی.

أَيَحْسَبُونَ أَنَّمَا نُمِدُّهُم بِهِ مِن مَّالٍ وَبَنِينَ ﴿٥٥﴾ نُسَارِعُ لَهُمْ فِي الْخَيْرَاتِ ۚ بَل لَّا يَشْعُرُونَ ﴿٥٦﴾

آیا ګمان کوی دوی د دی چه بیشکه هر هغه څیز چه ورکوو ئی مونږ دوی ته (په دنیا کښی مدد ورسره کوو) په هغه څیز له ماله او (له) ځامنو چه تلوار کوو مونږ دوی ته په خیراتونو (او اکرامو نه ده داسی) بلکه نه پوهیږی دوی (چه دا استدراج او امهال دی)

**تفسیر:** هم دغه د دوی خیال ؤ. لکه چه ویل به ئی. ﴿ وَقَالُوا نَحْنُ أَكْثَرُ أَمْوَالًا وَأَوْلَادًا وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴾ (د السبا (٤) رکوع (٣٥) آیة (٢٢) جزء) یعنی که مونږ د الله تعالیٰ په نزد مردود او مبغوض وی نو دعه مال او دولت او اولاد او نور ئی ولی مونږ ته په دغه وفرت او کثرت سره

راکړی دی؟ یعنی په دی نه پوهیږی چه د مال او اولاد دغه افراط د دوی د فضیلت او کرامت له سببه نه دی بلکه د امهال او استدراج په بناء دی، هغومره مهلت او ډیل چه دوی ته ورکاوه کیږی په هم دغه اندازه د دوی د شقاوت جام تر خندو (غاړو) پوری ډکیږی. ﴿وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا سَنَسْتَدْرِجُهُمْ مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُوْنَ ۚ وَاُمْلِيْ لَهُمْ ۚ اِنَّ كَيْدِيْ مَتِيْنٌ﴾ جزء ۹ (د الاعراف ۱۸۲-۱۸۳ آیت ۲۳ رکوع)

اِنَّ الَّذِيْنَ هُمْ مِّنْ خَشْيَةِ رَبِّهِمْ مُّشْفِقُوْنَ ﴿۵۷﴾

بیشکه هغه کسان چه دوی له (خوفه د) عذاب د رب خپل ویریدونکی دی تل،

**تفسیر:** یعنی صادق او خالص مؤمنون سره له ایمانه او احسانه د کفارو او مغرورینو پشان له «مکر الله» څخه مأمون نه دی بلکه تل تر تله د الله تعالیٰ له ویری څخه لړزیږی او ویریږی چه الله تعالیٰ دی نه کړی چه دغه انعامات او احسانات چه پر موږ په دغه دنیا کښی شوی دی امهال او استدراج وی! د حسن بصری رحمة الله علیه مقوله ده **ان المؤمن جمع احساناً وشفقة وان المنافق جمع اساءة وامناً** ـ مؤمن نیکی کوی او ویریږی او منافق بدی کوی او له سره ئی فکر خراب نه وی».

وَالَّذِيْنَ هُمْ بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۸﴾

او هغه کسان چه دوی په آیتونو (د قرآن) د رب خپل ایمان راوړی،

**تفسیر:** یعنی پر کونیهؤ او شرعیهؤ آیتونو دواړو باندی یقین او داسی عقیده لری چه هر شی دلته راد مخه کیږی هغه عین الحکمت او صواب دی. او هر هغه شی چه هلته را د مخه کیږی هغه هم بالکل حق او هر هغه حکم چه راکاوه کیږی هغه من کل الوجوه صواب او معقول دی.

وَالَّذِيْنَ هُمْ بِرَبِّهِمْ لَا يُشْرِكُوْنَ ﴿۵۹﴾

او هغه کسان چه دوی په رب خپل پوری نه شریکوی (بل هیڅ شی).

**تفسیر:** یعنی پر خالص ایمان او توحید په طریقه د اخلاص سره قائم دی او هر یو عمل په صدق او اخلاص سره اداء کوی د خفی یا جلی شرک یوی شائبی ته د راتللو موقع نه ورکوی.

وَالَّذِيْنَ يُؤْتُوْنَ مَا اٰتَوْا وَّقُلُوْبُهُمْ وَجِلَةٌ اَنَّهُمْ اِلٰى رَبِّهِمْ رٰجِعُوْنَ ﴿۶۰﴾

او هغه کسان چه ورکوی هر هغه چه ورکوی (له زکاتونو او خیراتونو) حال دا چه زړونه د دوی ویریدونکی دی (له عدم قبول ځکه چه) بیشکه دوی رب خپل ته ورتلونکی دی،

**تفسیر:** یعنی څه پوهیږو چه هغه هلته مقبول شو که نه؟ وروسته مو په کار راځی که نه؟ د الله تعالیٰ په لیاره کښی د صرفولو څخه تل د دوی په زړونو کښی دغه ویره او اندیښنه وی او پر خپل عمل باندی نه مغروریږی او سره له نیکی کولو هم ویریږی.

أُولَٰئِكَ يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَهُمْ لَهَا سَابِقُونَ ﴿٦١﴾

دغه کسان ډیر تلوار (او رغبت) کوی په نیکیو (طاعاتو) کښی او دوی هغو (نیکیو) ته ړومبی کیدونکی دی (له نورو خلقو نه)

**تفسیر:** هم په دنیا کښی او هم په آخرت کښی کما قال الله تعالیٰ ﴿فَآتَاهُمُ اللَّهُ ثَوَابَ الدُّنْيَا وَحُسْنَ ثَوَابِ الْآخِرَةِ﴾ (٤ جزء د آلعمران ١٤٨ آیت (١٥) رکوع نو په حقیقت کښی اصلی نیکی په صالحهؤ اعمالو حمیدهؤ اخلاقو او فاضلهؤ ملکاتو کښی وشوه نه په اموالو او اولادو کښی لکه چه د کفارو گمان ؤ.

وَلَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا وَلَدَيْنَا كِتَابٌ يَنْطِقُ بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٦٢﴾

او نه کوو تکلیف پر هیڅ نفس مگر په قدر د طاقت د ده او مونږ څخه یو کتاب (لوح محفوظ یا عملنامی) دی چه بیانوی حق رښتیا او پر دوی به هیڅ قسم ظلم ونه کړ شی (په تزئید د عقاب یا تنقیص د ثواب سره).

**تفسیر:** یعنی هغه اعمال او خصال چه پاس بیان کړی شول کوم داسی مشکل کار نه دی چه د هغه تحمل د انسان له طاقته خارج وی ځمونږ عادت داسی نه دی چه پر خلقو د مالا یطاق شیانو تکلیف وکړو دغه گردی (تولی) خبری داسی دی چه که تاسی توجه وکړئ نو پخپله ئی حاصلولی شئ. هغه کسان چه د کاملینو سابقینو درجی ته نشی رسیدلی، دوی دی هم خپل وسعت او همت سره موافق پوره هم هغسی سعی او کوښښ وکړی چه پری مکلف دی. د هر یوه اعمال ځمونږ په نزد د اعمالو په صحائفو کښی درجه په درجه لیکلی موجود دی چه د قیامت په ورځ د گردو (تولو) په مخ کښی پرانستلی او کیښودلی کیږی او د هغه سره موافق به دوی ته

جزاء ورکوله کیږی چه په هغه کښی د یوی ذری په اندازه هم ظلم او تیری نه کیږی او نه د چا کومه نیکی ضائع کیږی او نه ئی اجر کم ورکاوه کیږی نه بی وجه او بی قصوره د بل چا بار پری اچولی کیږی.

بَلْ قُلُوبُهُمْ فِي غَمْرَةٍ مِّنْ هَٰذَا وَلَهُمْ أَعْمَالٌ مِّن دُونِ ذَٰلِكَ هُمْ لَهَا عَامِلُونَ ﴿٦٣﴾

بلکه زړونه د دغو (کفارو) په غفلت کښی دی له دغه (قرآنه یا د صلحاؤ له اعماله) او شته دوی ته عملونه (ناپاکه او کارونه بیباکه) غیر له دی (شرکه د دوی) چه دوی د هغو عملونو کوونکی دی (نو به پری بیامومی جزاء او هم دوی به داسی په غفلت او معصیت کښی مشغول اوسیږی).

**تفسیر:** د آخرت له حسابه او کتابه دغه خلق غافل او بی پروا او په دنیوی نورو چارو کښی شاغل او لګیا دی او له سره له هغو ښخه نه وزګاریږی چه د آخرت په طرف توجه وکړی یا ئی دا مطلب چه د دوی په زړونو کښی کفر او نفاق ځای نیولی دی او دوی د شک او تردد، غفلت او د جهالت په تورو تیارو موجونو او چپو کښی ډوب شوی دی لویه ګناه خو دغه شوه باقی له دی نه ماسواء نور ډیر ګناهونه هم شته چه دوی ئی سره تولوی او د یوی شیبی له مخی هم له هغه ښخه نه دی جلا (جدا) او نه ښائی هم تری جلا (جدا) شی ځکه هغه بد اعمال چه د دوی په حق کښی د دوی د بد استعداد لامله (له وجی) مقدر شوی دی هغه به هرومرو (خامخا) دوی کوی او خامخا د هغه جزاء به هم مومی.

حَتَّىٰ إِذَا أَخَذْنَا مُتْرَفِيهِم بِالْعَذَابِ إِذَا هُمْ يَجْأَرُونَ ﴿٦٤﴾ لَا تَجْأَرُوا الْيَوْمَ إِنَّكُم مِّنَّا لَا تُنصَرُونَ ﴿٦٥﴾

تر هغه پوری کله چه ونیسو موږ (هم هغه) غنیان (غتان متنعمان) د دوی په (دنیوی) عذاب (د قتل یا قحط یا نور، نو) ناڅاپه دوی به فریادونه کوی (تنداری وهی). مه کوئ فریاد نن ورځ (ځکه چه) بیشکه تاسی سره له موږ ښخه هیڅ مدد به ونه کړی شی (په خلاصولو کښی له عذابه).

**تفسیر:** یعنی څه وقت چه په دنیوی یا اخروی عذاب کښې مبتلا شی نو ژاړی او سخت شورماشور اچوی چه مونږ ته له دغه آفت څخه نجات راکړه! ښه په دغه وقت کښې به د دوی نجات ورکوونکی څوک وی نو حکم صادریږی چه چپ شئ! له سره شورماشور مه کوئ! چه دغه ګردی (تولی) ژړا او انګولا مو بیکاره ده نن هیڅوک ستاسی نصرت او مرسته (مدد) نشی کولی او نه مو څمونږ له عذابه خلاصولی شی لکه چه د دغه عذاب یوه نمونه د مکی معظمی کفارو ته د «بدر» په غزا کښې وروښودله شوه چه هلته د کفارو لوی لوی مشران ووژلی او بندیان شول چه ښځو او لونو او خویندو ئی تر میاشتو پوری په هغوی پسی ژړل او د خپلو سرونو ویښتان به ئی شکول او خپل ځانونه به ئی وهل او تکول خو له دغو ګردو (تولو) شورماشوره او نارو او سورو څخه ئی هیڅ شی په لاسو ورنغلل یو ځلی چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د دوی د ظلم او ستم څخه متأثر او متألم شو د دوی په حق کښې ئی ښیرا وفرمایله نو تر اوو کلونو پوری پر دوی قحط (سوکړه) مسلطه شوه او دوی د لوږی له لاسه تر مردارو هدوکو او څرمنو پوری هم وخوړل او د وینو څښلو ته هم وار ورسید بالاخر د رحمة للعالمین په حضور کښې حاضر شول او د رحم او شفقت وسیله ئی وروړاندی کړله او د دعاء غوښتنه ئی تری وکړله بیا پاک الله د دوی له سرونو هغه عذاب پورته کړ په دغه وقت کښې نه «لات» د دوی په کار ورغلل او نه ئی «هبل» او «نائله» په درد وخوړل.

او وبه ویل شی دوی ته په عین د ژړا او فریاد کښې داسی چه)

---

قَدْ كَانَتْ اٰيٰتِيْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ فَكُنْتُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ تَنْكِصُوْنَ ﴿٦٦﴾ مُسْتَكْبِرِيْنَ ۖۗ بِهٖ سٰمِرًا تَهْجُرُوْنَ ﴿٦٧﴾

---

به تحقیق ؤ آیاتونه (د قرآن) څما چه لوستلی به شو پر تاسی (هر وقت) پس وئ به تاسی په پوندو خپلو چه بیرته به ګرځیدئ (او نه به مو مانه کلام څما) په دی حال چه کبر کوونکی به وئ په دی (قرآن یا محمد یا کعبه) حال دا چه د شپی قصی کوونکی به وئ (په طعن د مقدساتو کښې) مسخری به مو کولی پریښودل به مو (قرآن او نور مطهرات او تری تښتیدئ به)،

---

**تفسیر:** شیخ الهند رحمة الله علیه د دی آیت ترجمه داسی کری ده «تاسو ته آورول کیده څما آیتونه نو تاسی به په پوندو خپلو پر شا مندی وهلی له هغه سره تکبر کوونکی یو قصه ویونکی لره پریښوونکی (یا یو قصه ویونکی ئی ګنلی یا ویلی به مو پریښوده) یعنی ولی اوس شور او ماشور لګوئ او ناری سوری وهئ هغه وقت مو په یاد راوړئ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به

تاسی ته د الله تعالیٰ آیاتونه آورول او تاسی به په ډیر سرعت سره تری تښتیدئ او د هغو آیاتونو آوریدلو ته به مو هیڅ فکر او توجه نه کوله بلکه ستاسی کبر ـ غرور او ځانمنمی (خودنمائی) به له سره تاسی ته اجازه نه درکوله چه هغه ومنئ، یا د انبیاء الله علیهم الصلوٰة والسلام خبرو ته لږ غوږ کیږدئ! یعنی کفار به د رسول الله صلی الله علیه وآله وصحبه وسلم له مجلسه داسی تښتیدل لکه چه دوی (العیاذبالله) د کومی چتی (بیکاره) او فضولی قصی له آوریدلو څخه په تنګ شوی، تری لاړ شوی وی. یا به د ﴿سٰمِرًا تَهْجُرُوْنَ﴾ مطلب دا وی چه د شپی له مخی به دوی په حرم شریف کښی کیناستل او د دی په ځای چه مؤمنان شی او په حرم محترم کښی عبادت وکړی ـ او تری چار چاپیر طواف وکړی د رسول الله علیه الصلوٰة والسلام یا د عظیم الشان قرآن په نسبت به ئی خبری کولی او راز راز (قسم قسم) قصی او افسانی به ئی له خپله ځانه جوړولی، چا به ورته کوډګر ساحر ویل چا به د شاعری نسبت ورته کاوه، چا به کاهن باله، یو به یو شی ویل ـ بل به بل شی اورول ـ او هم داسی به چتی (بیکاره) او چپوله (فضول) خبرو او بیهوده هذیانو کښی به مشغول او لګیا وو ـ نو اوس د خپلو هغو چارو خوند وڅکئ! له دغه شورماشور کولو او نارو سورو وهلو څخه هیڅ یوه ګټه (نفع) او فایده تاسی ته نه در رسیږی او هیڅوک مو له دغه عذابه نشی خلاصولی.

أَفَلَمْ يَدَّبَّرُوا الْقَوْلَ أَمْ جَاءَهُمْ مَا لَمْ يَأْتِ آبَاءَهُمُ الْأَوَّلِينَ ﴿٦٨﴾

آیا پس فکر نه کوی (کفار) په دی وینا کښی (چه قرآن دی) آیا که راغلی دی دوی ته هغه څه (چه رسول او قرآن دی او) نه ؤ راغلی پلرونو پخوانیو د دوی ته (نو ځکه انکار کوی).

**تفسیر:** یعنی دغه منکرین د قرآن عظیم الشان په محاسنو کښی غور او فکر نه کوی که نه حقیقت الحال به ورمنکشف کیده چه بلاشبهه دغه د الله تعالیٰ جل وعلیٰ شانه کلام دی چه په هغه کښی د ګردو (ټولو) امراضو صحیح علاج ښوولی شوی دی چه الفاظ ئی موجز او معجز او معانی ئی واضح او لائح دی او مصدق او مؤید د نورو د سماوی کتابونو او انبیاؤ دی. آیا که راغلی دی دوی ته هغه څه چه نه ؤ راغلی پلرونو پخوانیو د دوی ته یعنی نصیحت کوونکی به تل ؤ یا به انبیاؤ الله علیهم السلام یا به د انبیاؤ اتباع. او آسمانی کتابونه هم پرله پسی نازلیدل ـ کله یو او کله بل کله په یو ځای او کله په بل ځای کښی او دغه کومه نوی خبره نه ده چه د هغی مثال او نمونه په پخوانیو ازمنهؤ کښی نه ده لیدلی شوی. هو! دغه ډیر اکمل او خورا (ډیر) اشرف او اقدس کتاب چه اوس نازل شوی دی په دغه لوی شان اعلیٰ مرتبی سره پخوا کوم کتاب نه دی راغلی نو د دی مقتضی داسی وه چه لا زیات ښائی د دغه نعمت قدر مو کړی وی ـ او په ښه شان سره مو د هغه استقبال کولی او د هغه د غږ په مقابل کښی به مو «لبیک!»

ویلی وی لکه چه اصحاب الکرام رضی الله عنهم هم ویلی دی.
**تنبیه:** ښائی دلته له «**آباء الاولین**» څخه «**آباء الابعدین**» مراد وی او هغه چه د ﴿یٰسٓ﴾ شریف په سورت کښی ﴿لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّآ اُنْذِرَ اٰبَآؤُهُمْ﴾ راغلی دی. هلته به د «**آباء الاقربین**» اراده کړی شوی وی والله اعلم.

﴿اَمْ لَمْ يَعْرِفُوْا رَسُوْلَهُمْ فَهُمْ لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ۝۶۹﴾

آیا که نه دی پیژندلی (کفارو) رسول خپل (په صداقت او امانت سره) پس دوی له ده څخه منکران دی.

**تفسیر:** یعنی آیا ځکه ئی پر تکذیب او اعراض لاس پوری کړی دی چه هغوی د خپل د دغه نبی الله له احواله باخبره نه دی؟ حال دا چه ګرد (تول) عرب پوهیږی چه محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم له هلکتوبه صادق ـ امین ـ عفیف او متقی ؤ ـ خاوند د علم او حلم او کرم او جود او سخا او وفا او احسان او مروت او کمال د عقل او صحت او حسب او نسب او اخلاق او آداب ؤ لکه چه حضرت جعفر رضی الله تعالیٰ عنه د حبشی د نجاشی (باچا) په مقابل کښی ـ او حضرت مغیره ابن شعبه د نائب کسریٰ په مخ کښی او ابوسفیان د کفر په حالت کښی د روم د قیصر په دربار کښی د هم دغو اوصافو اظهار کړی ؤ نو بیا د داسی صادق متقی (جامع‌الاوصاف و کامل الصفات) بنده په نسبت داسی ګمان کیدی شی چه (العیاذ بالله) هغه پر الله تعالیٰ دروغ تړی یا هغه یو اوږه سړی دی یا بیخی ناآشنا او پردی او بیګانه دی؟.

﴿اَمْ يَقُوْلُوْنَ بِهٖ جِنَّةٌ ۚ بَلْ جَآءَهُمْ بِالْحَقِّ وَاَكْثَرُهُمْ لِلْحَقِّ كٰرِهُوْنَ ۝۷۰﴾

آیا وائی دوی چه په ده لیونتوب دی (نه ده داسی لکه چه دوی ئی وائی او ګمانونه کوی) بلکه راغلی دی (دا محمد) دوی ته په حق (دین) سره او اکثر د دوی حق لره ناخوښوونکی دی.

**تفسیر:** ځکه چه مخالف دی له هوای نفسانی او له مقتضای شیطانی د دوی او اکثر ئی ځکه وفرمایل چه بعض محض له جهته د شرم او ننګ او ملامتی د قوم ایمان نه راوړی لکه ابوطالب. شیخ الهند د دی آیت ترجمه داسی کړی ده «یا وائی چه هغه سودائی دی هیڅ نشته هغه خو دوی ته ریښتیا خبره راوړی ده او پر دغو ډیرو ریښتیا خبره بده لګیږی» یعنی د سودائیانو او

ليونيانو خبرى كله داسى صافى او رښتيا وى حقيقت دا دى چه دغه خلق محض پخپله خوله داسى خبرى كوى چه په ده ليونتوب پورى شوى دى ځكه داسى پرته (غلطه) وايى او په واقع كښى دا يو هم پكښى نشته اما دوى له ډير بغض او حسد څخه ظاهراً داسى وائى او پخپلو زړونو كښى ښه پوهيږى او د دى خبرى تصديق كوى بيشكه هغه قرآن مجيد او دين د اسلام او توحيد او احكام د شريعت چه محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم راوړى دى حق دى نو كله چه دغه حقه خبره د دوى د اغراضو او خواهشونو سره موافقه نه ده نو ځكه پر دوى بده لګيږى او د هغى د منلو لپاره حاضر او تيار نه دى۔

وَلَوِ اتَّبَعَ الْحَقُّ أَهْوَاءَهُمْ لَفَسَدَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْأَرْضُ وَمَنْ فِيهِنَّ

او كه متابعت كړى وى حق (الله قرآن) د نفسانى غوښتنى د دوى (په وجود د ډيرو معبودانو كښى نو خامخا خراب شوى به وو آسمانونه او ځمكه او هر هغه (مخلوق) چه په دوى كښى دى

**تفسير:** يعنى كه رښتيا خبره پر دوى بده لګيږى ـ ودى لګيږى. صداقت، حقانيت او رښتيا د دوى د خوښى او خواهش نشى تابع كيدى ـ كه حق د دوى د خوښى او خواهشونو سره موافق احكام صادرولى نو د هغه الوهيت به نه وى پاتى او معاذ الله د بندګانو له لاسونو به د اوړو پيشو جوړه شوى وى ـ او په دغه تقدير سره به د آسمان او د ځمكى دغه محكم انتظامات څرنګه قائم پاتى كيدى شوى ـ كه د يوه وړوكى كلى انتظام محض د خلقو پر خواهشونو خوشى پريښودى شى هغه هم تر څلورو ورځو پورى قائم نشى پاتى كيدى ـ دا لا څه چه د ځمكى او آسمان حكومت ځكه چه عمومى غوښتنى د عقلى نظام مزاحم او يو له بله سره متناقض هم واقع شوى دى نو د عقل او هوىٰ په كشمكش او د مختلفهٔ اهواؤ په جنګونو او جګړو كښى دغه ګرد (تول) انتظامات به سره ګډوډ او مختل او مهمل كيږى.

بَلْ أَتَيْنٰهُمْ بِذِكْرِهِمْ

بلكه راوړى مو دى دوى ته ذكر پند د دوى (چه قرآن مجيد دى او دوى به تل)

**تفسير:** د هغه ارمان او تمنا داسى كوله ﴿لَوْ أَنَّ عِنْدَنَا ذِكْرًا مِّنَ الْأَوَّلِينَ لَكُنَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِينَ﴾ ( (۲۳) جزء د الصافات ۱٦۸ ـ ۱٦۹ آيت (٥) ركوع).

فَهُمْ عَنْ ذِكْرِهِمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿٧١﴾

پس دوی له ذکر پند خپل مخ گرځوونکی دی (فکر او غور ورته نه کوی)

**تفسیر:** یعنی څه وقت چه دغه قرآن کریم دوی ته راغی - او داسی راغی چه له هغه څخه د دوی قومی حیثیت ته عظیم‌الشان فخر او شرف حاصل شو نو اوس دوی ولی تری مخ اړوی؟ او داسی اعلیٰ فضل او شرف په ویړیا له خپله لاسه ضائع کوی.

اَمْ تَسْـَٔلُهُمْ خَرْجًا فَخَرَاجُ رَبِّكَ خَيْرٌ ۖ وَّهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿٧٢﴾

آیا غواړی ته (ای محمده !) له دوی نه څه اجرت (په دغه تبلیغ او رسالت خپل نو ځکه دربانددی تهمت وائی) پس هغه اجرت د رب ستا چه (دنیوی رزق او اخروی ثواب دی) خیر ډیر غوره دی (تاته د دوی له اجره) او هم دغه (الله) خیر ډیر غوره د تولو رزق روزی ورکوونکیو دی (په دنیا کښی او ښه د جزا ورکوونکیو دی په عقبا کښی).

**تفسیر:** یعنی تاسی د دعوت او تبلیغ او نصیحت او خیر غوښتلو په مقابل کښی له دوی نه د څه مزدوری او معاوضی او اجرت غوښتونکی هم نه یئ هغه د دواړو دارینو دولت چه پاک الله تاته مرحمت فرمایلی دی هغه د دوی د هغی معاوضی څخه ډیر بهتر دی.

وَاِنَّكَ لَتَدْعُوْهُمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٧٣﴾
وَاِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ عَنِ الصِّرَاطِ لَنٰكِبُوْنَ ﴿٧٤﴾

او بیشکه ته خامخا بولی دوی طرف د لیاری صافی سمی ته (چه دین د اسلام دی) او بیشکه هغه کسان چه نه راوړی ایمان په قیامت له سمی صافی لیاری څخه خامخا کږیدونکی دی (لیاری د ضلالت ته).

**تفسیر:** یعنی ستاسی د صدق او امانت حال گردو (تولو) ته معلوم دی او هغه پاک کلام چه تاسی راوړی دی د هغه ښیگنی (فائدی) او محاسن اظهرمن‌الشمس او ابین‌من‌الامس دی معاذ الله له

سره تاسی ته څه دماغی خلل او نقصان نه دی عائد شوی او نه د هغوی څخه د کومی معاوضی او اجرت غوښتونکی یئ د هغی سمی صافی لیاری په لوری چه تاسی خلقو ته دعوت او بلنه کوئ هغه بیخی صراطالمستقیم دی چه د هغه پر ثبات، استقامت او متانت هر عقلمن او پوه او سم سړی په آسانی سره پوهیدی شی او هیڅ وړاندی وروسته او لاندی باندی، کوږوالی او اعوجاج پکښی نشته. هو! پر هغه باندی ورتګ د هغو کسانو په برخه دی چه وروسته له مرګه پر بل ژوندون اعتقاد لری او له خپل بد انجام څخه ویریږی. پاتی شول هغه کسان چه له انجامه بی فکره او د آخرت ویره له سره په هغو کښی نشته نو هغوی به کله پر دغه سمه صافه لیاره تلی شی او علیالیقین به تری بی لیاری کیږی او په کندو کښی به لویږی او یقیناً سمه خبره د خپل کوږوالی لامله (له وجی) کږوی.

وَلَوْ رَحِمْنٰهُمْ وَكَشَفْنَا مَا بِهِمْ مِّنْ ضُرٍّ لَّلَجُّوْا فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿٧٥﴾

او که مهربانی کړی وی مونږ پر دوی او لری کړی وی مونږ هغه چه په دوی ؤ له ضرره (چه قحط دی) نو خامخا به لا تینګ شوی وو دوی په ګمراهی تجاوز سرکشی خپله کښی حال دا چه حیران او متردد به وو.

**تفسیر:** یعنی که دغه منکران له تکلیف څخه وباسو او آرامی ور په برخه کړو بیا هم دوی احسان نه منی او له شرارت او سرکشی څخه نه آوړی. د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ښیرا یو ځلی پر مکیانو قحط (سوکړه) نازل شو بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دعاء هغه تری لری شو ښائی چه دلته ئی همغه فرمایلی وی یا دا مطلب که مونږ پخپل فضل او رحمت له دوی څخه رنړ (تکلیف) او نقصان لری کړو یعنی د قرآن عظیم پوه ورعنایت کړو خو بیا هم دا خلق د خپل ازلی خسران او سوء استعداد لامله (له وجی) اطاعت او انقیاد نه اختیاروی کما قال الله تعالیٰ ﴿ وَلَوْ عَلِمَ اللّٰهُ فِيْهِمْ خَيْرًا لَّاَسْمَعَهُمْ وَلَوْ اَسْمَعَهُمْ لَتَوَلَّوْا وَّهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴾ (٩) جزء د الانفال (٣) رکوع ٢٣ آیت

وَلَقَدْ اَخَذْنٰهُمْ بِالْعَذَابِ فَمَا اسْتَكَانُوْا لِرَبِّهِمْ وَمَا يَتَضَرَّعُوْنَ ﴿٧٦﴾

او خامخا په تحقیق ونیول مونږ دوی په عذاب سره (څو عاجز او نرم شی) پس غاړه ئی کینښوده (او عاجزی ئی ونه کړه) رب خپل ته او نه تضرع زاری ئی وکړه (بلکه لا سرکش او متکبر شول).

**تفسیر:** مثلاً قحط او نور آفات پری مسلط شول خو سره له هغه دوی د عجز له لیاری وروړاندی

نشول او د الله تعالیٰ احکامو ته ئی غاړه کینښودله.

حَتّٰٓى اِذَا فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَابًا ذَا عَذَابٍ شَدِيْدٍ اِذَا هُمْ فِيْهِ مُبْلِسُوْنَ ﴿٧٧﴾

تر هغه پورې کله چه وپرانستله مونږ پر دغو (منکرانو) یوه دروازه خاوند د عذاب سخت ناڅاپه دوی په دغه (عذاب) کښې حیران نا امیده ؤ له هر خیره.

**تفسیر:** له دی نه یا د آخرت عذاب مراد دی یا د جنگونو د هغو دروازو (ورونو) پرانستل مقصود دی چه په هغوی کښې دوی گرد (تول) سره ستړی او ستومان او بیرته کیناستل.

وَهُوَ الَّذِيْٓ اَنْشَاَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ۭ قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ﴿٧٨﴾

او دغه (الله) هغه ذات دی چه پیدا کړی ئی دی تاسی ته غوږونه (د سامعی قوه) او سترگی (د باصری قوه) او زړونه (د بصیرت قوه) ډیر لږ شکر وباسئ تاسی (او حق یی ډیر لږ په ځای کوئ).

**تفسیر:** په غوږونو سره د هغه تنزیلیه آیات واورئ! او په سترگو سره ئی تکوینیه آیات وگورئ! او په زړونو سره د دغو دواړو په پوهیدلو کښې کوښښ وکړئ! د دغو نعمتونو شکریه خو په دی کښې وه چه د ده دغه درکړی قوتونه تاسی د ده د احکامو په تعمیل کښې مصروف کړئ! مگر داسی نه کیږی او اکثر اوقات اکثر انسانان دغه قوتونه بی ځایه لگوی.

وَهُوَ الَّذِيْ ذَرَاَكُمْ فِي الْاَرْضِ وَاِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿٧٩﴾

او دغه (الله) هغه ذات دی چه پیدا کړی (خواره کړی) ئی یئ تاسی په ځمکه کښې او خاص هم دغه (الله) ته به ورجمع کړی شئ په قیامت کښې.

**تفسیر:** هلته به د هر یوه د شکر ایستلو او د شکر نه ایستلو بدل وررسیږی په هغه وقت کښې به هیڅ یو انسان او هیڅ یو عمل نه غیر حاضریږی هغه ذات ته چه دغه گرد (تول) شیان ئی منتشر (خواره) کړی دی دغه کار هم هیڅ اشکال نه لری چه هغه تول سره بیا یو ځای مجتمع

(او راتول) کړی.

وَهُوَالَّذِي يُحۡيِ وَيُمِيتُ وَلَهُ اخۡتِلَافُ الَّيۡلِ وَالنَّهَارِۚ اَفَلَا تَعۡقِلُوۡنَ ۝۸۰

او دغه (الله) هغه ذات دی چه ژوندی کوی او وژل کوی او خاص د هم ده کار دی اختلاف بدلول د شپی او د ورځی نو آیا پس تاسی عقل نه چلوئ (او عبرت نه اخلئ؟)

**تفسیر:** د هغه الله تعالیٰ لوی ذات په قدرت او قبضه کښی چه د ژوندیو وژل او د مړیو بیا ژوندی کول یا له تیارو څخه رڼا (رڼړا) ایستل یا په رڼا (رڼړا) کښی د تیارو نه ایستل دی (او د شپی او د ورځی سره اختلاف چه کله ئی اوږدوی او کله ئی لندوی، کله ئی یخوی او کله ئی تودوی) نو د دی لوی قدرت په مقابل کښی دغه څه سختی او اشکال لری چه تاسی بیا ژوندی کړی او له سترګو څخه مو دا د جهل او ظلمت پردی لری کړی؟ څو وروسته له هغه د اشیاؤ حقائق دیر په ښه صورت سره درمنکشف شی لکه چه په قیامت کښی به کیږی ﴿ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيدٌ ﴾.

بَلۡ قَالُوۡا مِثۡلَ مَا قَالَ الۡاَوَّلُوۡنَ ۝۸۱ قَالُوۡۤا ءَاِذَا مِتۡنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَبۡعُوۡثُوۡنَ ۝۸۲ لَقَدۡ وُعِدۡنَا نَحۡنُ وَاٰبَآؤُنَا هٰذَا مِنۡ قَبۡلُ اِنۡ هٰذَاۤ اِلَّاۤ اَسَاطِيۡرُ الۡاَوَّلِيۡنَ ۝۸۳

بلکه وائی (دا کفار) په شان د هغی وینا چه ویلی ده پخوانیو کفارو. چه (ویلی ؤ هغه قول پخوانیو کفارو چه دغه دی) ویل دوی کله چه مړه شو مونږ او شو مونږ خاوری او هدوکی (وراسته) نو آیا مونږ به خامخا بیا ژوندی راپاڅول کیږو (بلکه نه کیږو) خامخا په تحقیق وعده کړی شوی ده له مونږ سره او له پلرونو ځمونږ سره هم دغه وعده پخوا له دی نه دی دا خبری مګر دروغجنی قصی دی د پخوانیو خلقو.

**تفسیر:** یعنی کفار وائی دغه له سره د عقل او فهم خبری نه دی، محض د پخوانیو خلقو د ړندو په تقلید پسی رهی (روان) دی او همغه پخوانی دقیانوسی شکوک او شبهات راوړاندی کوی چه له دوی نه مخکښی به ړومبنیو خلقو هم کول. یعنی وروسته له دی نه چه مونږ به خاورو کښی گډود شو نو بیا به څرنگه ژوندی کیږو؟ داسی لری له عقله او یوه خبری چه مونږ ته اوروڵشی پخوا له دی نه څمونږ پلرونو او نیکه گانو ته هم شوی دی. لیکن مونږ تر نن ورځی پوری د خاوری له ذراتو او د ورستو هدوکو له بڅرکو د انسان خلقت او ژوندون نه دی لیدلی ـ څه چه دی یا نه دی دغه گردی (تولی) همغه قصی او افسانی دی چه پخوانیو خلقو جوړی کړی دی او اوس بیا تکرار د هغو نقل راته کیږی.

---

قُل لِّمَنِ الۡأَرۡضُ وَمَن فِيهَآ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٨٤﴾
سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٨٥﴾

---

ووایه (ای محمده! دغو منکرانو ته) چه چاته ده دغه ځمکه او هغه مخلوقات چه په هغی کښی دی (خلقاً ملکاً وعبیداً) که چیری یئ تاسی چه پوهیږئ (نو راوښیئ خالق او مالک ئی!) نو ژر وبه وائی خاص الله ته دی ووایه (ای محمده دوی ته نو) آیا پس تاسی پند نه اخلئ (او غور پری نه کوئ؟).

---

**تفسیر:** چه د هغه الله تعالیٰ قبضه پر گرده (توله) ځمکه او د ځمکی پر گردو (تولو) شیانو ده نو آیا دغه ستاسی یو موتی خاوره به د هغه له قدرته خارجه وی؟

---

قُلۡ مَن رَّبُّ السَّمَٰوَٰتِ السَّبۡعِ وَرَبُّ الۡعَرۡشِ
الۡعَظِيمِ ﴿٨٦﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٨٧﴾

---

ووایه څوک دی رب د آسمانونو اوو او رب د عرش ډیر لوی نو ژر وبه وائی دوی چه (دغه تول ملکاً خلقاً و عبیداً منسوب) الله ته دی نو ووایه (ای محمده دوی ته چه) آیا پس نه ویریږئ تاسی (له عذابه د الله او ځان نه ساتئ له شرکه)

---

**تفسیر:** چه دومره لوی مالکالملک به تاسی د دغو گستاخیو او سپین سترگیو په بدل تر کوم

ځای پوری کش کاږی؟ آیا دغه انتهائی گستاخي او سپین سترګی نه ده چه هغه مطلق مالک‌الملک مو په خپل زعم له یوی بی مقداری ذری څخه هم عاجز او ناتوانه درویٔ؟.

قُلْ مَنْۢ بِيَدِهٖ مَلَكُوْتُ كُلِّ شَيْءٍ وَّهُوَ يُجِيْرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۸۸﴾ سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ ۚ قُلْ فَاَنّٰى تُسْحَرُوْنَ ﴿۸۹﴾

ووایه (ای محمده دوی ته چه) څوک دی هغه ذات چه په ید (بلاکیف) د ده کښی باچاهي تصرف دی د هر څیز او دی پناه ورکوی (مخلوقاتو ته) او پناه نه ورکوله کیږی په (ضرر د) ده باندی که یئ تاسی چه پوهیږیٔ نو ژر وبه وائی چه (دا صفات) خاص الله ته دی ووایه (ای محمده دوی ته) پس څرنګه تګی درباندی کوله شی (او ګرځئ له حقه یا کوم طرف ته سحر درباندی کاوه شی).

**تفسیر:** یعنی پر هر څیز د الله تعالیٰ واک (قبضه) او اختیار چلیږی. د هر چا په نسبت چه الله تعالیٰ اراده وفرمائی هغه ته پناه ورکوی ـ مګر بل هیڅوک د الله تعالیٰ مجرم ته پناه نشی ورکولی او نه د الله تعالیٰ په ضرر څه کار کولی شی نو ژر وبه وایی دوی چه دغه صفات خاص الله تعالیٰ ته دی نو بیا ووایه ای محمده دغو منکرانو ته پس له کوم طرفه مکر او فریب درباندی کاوه شي؟ چه د هغه لامله (له وجی) تاسی مسحور شوی یئ ـ او خپل هوش او حواس مو زائل کری دی او په داسی غټو غټو خبرو باندی هم نه پوهیږیٔ ـ کله چه د ګردو (تولو) آسمانونو او ځمکو مالک همغه الله تعالیٰ دی ـ او هر شی د ده تر تصرف او اقتدار لاندی دی نو ستاسی د بدن وراسته هدوکی او د غوښو بځرکی د ده له قبضی او اقتدار څخه چیری وتی شی؟ او چیری تللی شی چه پر هغو به هغه مطلق قادر خپله اراده او مشیت نشی نافذولی؟.

بَلْ اَتَيْنٰهُمْ بِالْحَقِّ وَاِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿۹۰﴾

بلکه راتله کری (راوړی) مو دی دوی ته حق) چه قرآن توحید او بعث بعد الموت دی) او بیشکه دوی خامخا دروغجنان دی. (چه تری انکار کوی)

**تفسیر:** یعنی په دلائلو او شواهدو سره ظاهر کری شوی دی چه هر هغه چه دوی ته ویل کیږی بیخی صحیح او حق دی او دغو خلقو محض د دروغو خیالاتو متابعت کری دی.
(او په تحقیق سره دغه منکران دروغجنان دی چه له حق څخه انکار کوی او هغه حق دا دی چه)

مَا اتَّخَذَ اللّٰهُ مِنْ وَّلَدٍ وَّمَا كَانَ مَعَهٗ مِنْ اِلٰهٍ اِذًا لَّذَهَبَ كُلُّ اِلٰهٍۭ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ؕ سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۹۱﴾

نه دی نیولی الله هیڅ ولد او نشته ورسره هیڅ بل معبود (شریک په الوهیت کښې او که وی ورسره بل معبود) نو په دغه وقت کښې خامخا بیولی او (بیل کړی) به ؤ هر یو خدای په هغه مخلوق چه پیدا کړی ئی ؤ (دوی له نورو مخلوقاتو خپل ځان ته) او خامخا غلبه کوله ځینو د دوی پر ځینو نورو (نو فاسدیده به دغه انتظام د عالم مشاهده) پاکی د الله له هغه چه بیانوی ئی (په هغه سره له ولد او شرک)

**تفسیر:** یعنی د ځمکی او د آسمان او تر ذراتو پوری د ګردو (تولو) موجوداتو او مخلوقاتو مالک او مختار همغه الله جلجلاله دی. نه الله تعالیٰ ځوی، لور ته محتاج ـ او نه مددګار ئی په کار دی او نه د ده په حکومت او سلطنت کښې هیڅ کوم داسی شریک شته چه د یوی ذری په اندازه د مستقل اختیار خاوند وی او که داسی وی نو د هر با اختیاره حاکم رعایا به سره بیلیده او خپل لاؤ لښکر به ئی تولاوه او په هغه بل به ئی یرغل (حمله) وروړ ـ او د عالم دغه مضبوط او محکم نظام به ئی د ځو ورځو له مخی هم قائم نه پاتی کیده. د سورت الحج د ﴿ لَوْ كَانَ فِيهِمَآ اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا ﴾ په تفاسیرو کښې د دی تقریر شوی دی هلته دی ولوست شی! یا آیا د الله تعالیٰ شان داسی کیدی شی چه څوک به د هغه په مخ کښې دم ووهلی شی یا یوه ذره به د هغه د حکم څخه خارجیدی شی؟

عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۹۲﴾ ع

عالم دی پر پټو او په ښکاره‌ؤ پس ډیر لوی (پورته لوړ) دی له هغه څیز چه شریکوئ ئی ورسره.

**تفسیر:** یعنی چه د هغه د عام او تام قدرت حال پخوا له دی نه بیان شوی دی ـ او د هغه محیط علم داسی دی چه له هغه ځنی هیڅ یو ظاهری او باطنی او د غیب او شهادت خبری پټی او مخفی نه دی آیا د ده په قدرت کښې هغه شیان شریکیدی شی چه د هغوی قدرت او علم او نور ګرد (تول) صفات محدود او مستعار دی؟ استغفرالله!.

روایت دی له حسن رضی الله تعالیٰ عنه چه رب العزة جلجلاله خپل رسول خبر کړ په دی چه ستا

په امت کښې به هم عقوبت وی اما وقت ئې ورمعين نه کړ او امر ئې ورته وکړ په کولو د دی دعاء لکه چه وائی

قُل رَّبِّ إِمَّا تُرِيَنِّي مَا يُوعَدُونَ ﴿٩٣﴾ رَبِّ فَلَا تَجْعَلْنِي فِي الْقَوْمِ الظَّٰلِمِينَ ﴿٩٤﴾

ووايه ته (ای محمده !) ای ربه ځما که چيری وښيی ته ماته هغه (عذاب) چه وعده ئې کوله شی (له دوی سره) ای ربه ځما پس مه لره ما په قوم ظالمانو کښې.

**تفسير:** يعنی څرنګه چه د الله تعالیٰ په دربار کښې داسی ګستاخی او سپين سترګی کوله شی نو يقيناً کوم سخت عذاب به نازليږی نو ځکه هر مؤمن ته هدايت شوی دی چه د الله تعالیٰ له عذابه ووېرېږی او داسی دعاوی وکړی «ای الله تعالیٰ! کله چه پر ظالمانو عذاب نازلوی ما په هغه کښې مه شاملوه !» لکه چه په حديث کښې راغلی دی **«واذا اردت بقوم فتنة فتوفني غير مفتون»** مطلب دا چه ای الله تعالیٰ! مونږ د ايمان او احسان په ليارہ کښې مستقيم ولره. او داسی کوم تقصير له مونږه مه صادروه چه العياذ بالله ستا په عذاب کښې شامل شو په بل ځای کښې داسی ارشاد شوی دی ﴿ وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَّا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنكُمْ خَاصَّةً ﴾ (۹ جزء د الانفال ۲۵ آيت ۳ رکوع) دلته ئې رسول الله مبارک مخاطب ګرځولی دی خو اصلی مقصد ئې نورو ته آورول او پری خبرول دی لکه چه د دغه عظيم الشان قرآن عمومی عادت دی.

وَإِنَّا عَلَىٰٓ أَن نُّرِيَكَ مَا نَعِدُهُمْ لَقَٰدِرُونَ ﴿٩٥﴾ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ السَّيِّئَةَ نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَصِفُونَ ﴿٩٦﴾

او بيشکه مونږ په دی کار چه وښيو تاته هغه عذاب چه وعده ئې کوو له دوی سره خامخا قادر يو (ليکن مؤخر کوو ئې حکمتاً و مصلحتاً) دفعه کړه (ای محمده) په هغه خصلت سره چه هغه ډير ښه دی بدی (او ضرر د دوی تاته) مونږ ته ښه معلوم دی هغه خبری چه ستائی (دوی تا يا ما نو ور به کړو پری دوی ته جزا).

**تفسیر:** یعنی دغه ځمونږ په قدرت کښې دی چه ستاسی تر سترګو لاندی به هم دغی دنیا کښې هغوی ته سزا ورکړو لیکن ستاسی د لوړ مقام او د لوړی مرتبې او اعلیٰ اخلاق مقتضی داسی ده چه د هغوی بدی په نیکی سره دفع کړئ! تر هغه پوری چه د هغو د دفع امکان وی او له دغسی چتی (بیکاره) او چپوله (فضولو) خبرو څخه خفه او په قهر نشئ. مونږ ته د دوی ګرد (ټول) اعمال معلوم دی او په تاکلی (مقرر کړی) وقت کښې به هغوی ته کافی سزا ورکوله کیږی، ستاسی د دی اغماض او پستی معاملی اثر به داسی کیږی چه ګرد (ټول) خلق به ستاسی په طرف متمائل کیږی او ستاسی د ښو اخلاقو به تعریف او ستاینه (صفت) کوی او په دغه صورت د دعوت او اصلاح مقصد په ښه شان حاصلیږی **(وهذا قبل الامر بالقتال)**.

وَقُلْ رَّبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ هَمَزَٰتِ ٱلشَّيَٰطِينِ ﴿٩٧﴾

او ووایه (ای محمده!) ای ربه ځما پناه غواړم په تا پوری له چخولو (وسوسو) د شیطانانو نه (چه راکاږی خلق ضلالت ته).

**تفسیر:** پخوا د شیاطین‌الانس سره د سلوک او ګزاری طریقه ښوولی شوی وه لیکن شیاطین‌الجن په دغه طریقه سره نشو متأثر کیدلی او هیڅ یو تدبیر او پوست وضعیت په هغوی اثر نشو غورځولی او نه پری سمیدل، د دوی علاج یواځې په استعاذه سره کیږی یعنی د الله تعالیٰ په پناه کښې ښائی چه سړی ورشی څو هغه مطلق قادر د دوی د لاس اوږدولو او وسوسو څخه ئی محفوظ کړی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «د شیطان تحریک او وسوسه دا ده چه په دینی سؤال جواب کښې بی موقعه سړی په غصه کوی او په جنګ او جګړه کښې یی غورځوی د هم دغه په نسبت ئی فرمایلی دی چه د بدی خورا (ډیر) ښه جواب دا دی چه په ښو خبرو سره ورکړ شی!

وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَن يَحْضُرُونِ ﴿٩٨﴾

او پناه غواړم په تا پوری ای ربه ځما چه حاضر شی (دوی) ماته (په لمانځه یا تلاوت د قرآن یا په ځنکدن کښې)

**تفسیر:** یعنی په هیڅ یوه حال کښې می مه پریږده چه شیطان ماته رانژدی شی یا خپل وار او ګزار پر ما وکړی.

(او تل به یادوی په بدی سره ما او تا ای محمده او استاځی ځما دغه کافران)

حَتّٰۤی اِذَا جَآءَ اَحَدَهُمُ الۡمَوۡتُ قَالَ رَبِّ ارۡجِعُوۡنِ ﴿۹۹﴾ لَعَلِّیۡۤ اَعۡمَلُ صَالِحًا فِیۡمَا تَرَکۡتُ کَلَّا ؕ
اِنَّهَا کَلِمَةٌ هُوَ قَآئِلُهَا ؕ وَ مِنۡ وَّرَآئِهِمۡ بَرۡزَخٌ اِلٰی یَوۡمِ یُبۡعَثُوۡنَ ﴿۱۰۰﴾

---

تر هغه پورې کله چه راشي يو د دوی ته (اسباب د) مرگ نو وبه وائي ای ربه ځما بيرته وگرځوه ته ما (دنيا ته) ښائي چه زه عمل وکړم نيک په هغه څيز کښې چه بيرته پريښې دی ما (په دنيا کښې نو فرمائی الله چه) نه دی داسې (چه ته بيرته دنيا ته وگرځيدی شي ايمان او صالح عمل ته) بيشکه دغه د رجعت خبره داسې چتي (بيکاره) خبره ده چه دی ويونکی د هغی دی او په مخ کښې د دوی دی برزخ (پرده د قبر ده چه ئې نه پريږدی رجوع ته) تر هغی ورځې پورې چه بيا ژوندی راپاڅولی کيږی.

---

**تفسير:** يعني تاسې دغه د کفارو بدی په ښه طريقه سره دفع کوئ! او هغه خبرې چه دوی ئې جوړوی هغه مونږ ته راپريږدئ! تر هغه پورې چه د دوی د ځينو د موت وقت راشي او د نزع په وقت کښې د عذابونو مبادی معاينه کړی او په افسوس او ارمان کولو شروع وکړی ـ او په هغه وقت کښې داسې تمنا وکړی چه ای الله! د قبر د ورتللو په ځای ما پريږده چه بيرته دنيا ته لاړ شم! او د خپلو تيرو تقصيراتو تلافي وکړم! او څه نيک اعمال او د آخرت پنگه (سرمايه) ځان ته برابره کړم! ـ او وروسته له دی نه بيخي له گناهونو او خطاؤ او بدو چارو څخه لاس واخلم! او بالکل ورنژدی نشم! نو په دغه کښې به ای پروردگاره! ستا لوی لطف او مهرباني وی! کما قال الله تعالىٰ ﴿ وَاَنۡفِقُوۡا مِنۡ مَّا رَزَقۡنٰکُمۡ مِّنۡ قَبۡلِ اَنۡ یَّاۡتِیَ اَحَدَکُمُ الۡمَوۡتُ فَیَقُوۡلَ رَبِّ لَوۡلَاۤ اَخَّرۡتَنِیۡۤ اِلٰۤی اَجَلٍ قَرِیۡبٍ ۙ فَاَصَّدَّقَ وَ اَکُنۡ مِّنَ الصّٰلِحِیۡنَ ﴾ (۲۸) جزء د المنافقون (۲) رکوع ۱۰ آيت

نو پاک الله به ملائکة العذاب ته وفرمائی چه دغو منکرانو ته ووايئې نه ده داسې چه ته به بيرته دنيا ته وگرځيدی شي دپاره د ايمان او د صالح عمل بيشکه دغه کلمه د رجعت يوه داسې چتي (بيکاره) خبره ده چه دی ويونکی د هغی دی يعنی د اجل د راتگ څخه وروسته د دغه مقصد لپاره له سره نه ستانه (واپس) کيږی او که بالفرض ستانه (واپس) هم کړل شي نو دوی به بيا له سره صالحه اعمال ونه کړی او بيا به په همغو ملاهيو او مناهيو کښې مشغوليږی ﴿ وَلَوۡ رُدُّوۡا لَعَادُوۡا لِمَا نُهُوۡا عَنۡهُ وَ اِنَّهُمۡ لَکٰذِبُوۡنَ ﴾ جزء ۷ (د الانعام ۳ رکوع ۲۸ آيت )

دغه محض د هغوی د خولې خبرې دی چه د حسرت، ارمان، ندامت، او افسوس له غلبې څخه چپ نشي پاتې کيدی ـ نو دی به خپل سر دغسې خبرې کوی چه بل شوک ئې پرته (علاوه) له ده څخه ويونکی نه دی او اوس داسې خبرې له سره څمونږ په دربار کښې نه اوريدلې کيږی او

نه د دوی بیا رجوع دنیا ته ممکنه ده ځکه چه د دوی په مخ کښې د قبر برزخ مانع دی او د قبر پرده ئی تر وراندی پرته ده تر هغې ورځې پورې چه بیا ژوندی راپاځولی کیږی یعنی تر اوسه ئی څه لیدلی دی؟ آیا یواځې له مرګه دومره زیات ویریدلی دی؟ وروسته له دی نه یو بل عالم د «برزخ» راځی کله چه هلته ورسیږی له دنیائی خلقو څخه به پرده کیږی او آخرت ئی هم لا په مخ کښې نه دی راغلی. هو! د آخرت د عذاب یو لږ څه نمونه ئی وردمخه کیږی چه د هغه خوند به تر قیامت پورې پرله پسې څکی.

فَإِذَا نُفِخَ فِي الصُّورِ فَلَا أَنسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ وَلَا يَتَسَاءَلُونَ ﴿۱۰۱﴾

نو کله چه پوکی وکړ شی په صور شپیلی کښې (لپاره د قیام د قیامت) پس نه به وی (نافع) نسبونه په منځ د دوی کښې په دغه ورځ کښې او نه به پوښتنه کوی دوی یو له بله.

**تفسیر:** یعنی د برزخ د عالم څخه وروسته قیامت ور په سر دریږی د دوهم صور (شپیلی) د پوکلو څخه وروسته ګرد (ټول) مخلوقات به په یوه میدان کښې سره راټولوی او درول کیږی په دغه وقت کښې به هر سړی پخپل فکر او اندیښنه کښې لګیا وی. اولاد له موره، پلاره سره ورور له وروره سره، میړه له ښځې سره او خپل له خپلوانو سره څه کار او غرض نه لری ـ او هر یو به له بل څخه ناآشنا او بیزاره وی ـ هیڅوک به د بل پوښتنه نه کوی لکه چه د «عبس» په اوله رکوع کښې مرقوم دی ﴿ يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ وَأُمِّهِ وَأَبِيهِ وَصَاحِبَتِهِ وَبَنِيهِ لِكُلِّ امْرِئٍ مِنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ ﴾ له دی نه وروسته امکان لری چه له ځینو قرابتونو او خپلوی څخه څه نفع وررسیږی **کما قال الله تعالی فی رکوع الاول من سورة الطور.**
﴿ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَا أَلَتْنَاهُمْ مِنْ عَمَلِهِمْ مِنْ شَيْءٍ ﴾.

**تنبیه:** په ځینو احادیثو کښې نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه د قیامت په ورځ کښې ګرد (ټول) د نسب او «صهر» دا مادی تعلقات منقطع کیږی یعنی په کار نه ورځی **«الانسبی وصهری** ـ پرته (علاوه) ځما له نسب او صهر» معلوم شو چه د رسول اکرم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم تعلقات له دغه عمومه مستثنیٰ دی د هم دغه حدیث د اوریدلو په اثر حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه د ام کلثوم بنت علی بن ابی طالب رضی الله تعالیٰ عنهما سره خپله نکاح وتړله ـ او څلویښت زره درهمه مهر ئی ورو تاکه (مقرر که) حضرت شاه صاحب لیکی ـ «هلته به پلار او ځوی یو له بل سره نه وی شامل له هر یوه سره د ده د عمل حساب دی». ځما نیکه مولوی مراد علی کاموی د ﴿ فَلَا أَنسَابَ بَيْنَهُمْ ﴾ تفسیر پخپل **«یسیر»** کښې داسی کړی دی «پس نه به وی سره نسبونه په منځ د دوی کښې په دغه ورځ کښې یعنی نه به نسبی علائق

پاتی وی لکه پلارولی ـ موروولی ـ څویولی ـ لوروولی ـ وروروولی ـ خوروولی ... او نه حسبی علائق به پاتی وی لکه خسرولی ـ خواښی ولی ـ خینی ولی ـ او دا به په سبب د ډیر دهشت او حیرت وی. دا لا څه بلکه خپل ځان به هم تری ورک وی. یا دا معنی چه دلته اوس په نسب فخر کوی چه زه د هغه «شاه» او د دغه «خان» او د دی «صاحب» پلار یا ځوی یا ورور یا بل څه یم او هلته به دی نسبت او دی سبب ته هیڅ یوه فائده نه وی او نه به پوښتنه کوی دوی یو له بله د دی نسب او حسب او دغه په سبب د ډیر مشغولتیا د دوی وی پخپل غم کښی او دغه به پخوا له حسابه وی ځکه چه هلته به خلاصی په عمل وی لکه چه فرمائی

فَمَن ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿١٠٢﴾ وَمَنْ خَفَّتْ
مَوَازِينُهُ فَأُولَٰئِكَ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنفُسَهُمْ فِي جَهَنَّمَ
خَالِدُونَ ﴿١٠٣﴾ تَلْفَحُ وُجُوهَهُمُ النَّارُ وَهُمْ فِيهَا كَالِحُونَ ﴿١٠٤﴾

پس هر څوک چه درنی شی تلی (یا تللی شوی) عملونه د دوی (معتمد وګرځی په نزد د الله) پس دغه کسان هم دوی دی بریالیان (کامیاب) (له عذاب خلاص شوی په مراد رسیدلی) او هر هغه څوک چه سپکی ئی وختلی تلی (یا تللی اعمال) د ده (چه وزن نه کړی په نزد د الله) پس دا هغه کسان دی چه زیان ئی کړی دی د نفسونو خپلو (په کفر او عصیان سره اوس دوی) په دوزخ کښی به تل پراته وی سوځوی مخونه د دوی اور (د دوزخ) او دوی به دغه اور کښی غونج وچولی(ګونجی تندی) (بدرنګه او بدمخی) به وی.

**تفسیر:** د دوی بدن به له ډیرو سوځیدو څخه وپرسیږی لاندنی شونډه به ئی ښکته ځوړندیږی ـ تر نامه پوری رسیږی او پاسنۍ شونډه به ئی تر ککری هم ورپورته کیږی او ژبه به ئی (لکه د فیل شونډک) د باندی راوځی ـ او تر ځمکی به راوړدیږی **(اللّٰهم احفظنامنه ومن سائر انواع العذاب)**

نو وبه ویلی شی په عقبا کښی له جانبه د الله تعالیٰ هغو کسانو ته چه زیان ئی کړی دی د خپل ځان چه تول عمر ئی په مخالفت د رحمان او متابعت د نفس او شیطان ضایع کړی دی چه

أَلَمْ تَكُنْ آيَاتِي تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فَكُنتُم بِهَا تُكَذِّبُونَ ﴿١٠٥﴾

آیا نه ؤ آیتونه (د قرآن) ځما چه لوستل کیده پر تاسی (په دنیا کښی) پس وئ تاسی چه پر هغو به مو تکذیب کاوه (چه اوس لائق د دی عذاب شوئ)

**تفسیر:** یعنی په دغه وقت کښی به دوی ته داسی ویل کیږی ګواکی د هغو خبرو تکذیب چه تاسی به دنیا کښی کاوه اوس د هغو د تکذیب بدل او سزا وګورئ چه رښتیا وه که دروغ؟.

قَالُوا رَبَّنَا غَلَبَتْ عَلَيْنَا شِقْوَتُنَا وَكُنَّا قَوْمًا ضَالِّينَ ﴿١٠٦﴾ رَبَّنَآ أَخْرِجْنَا مِنْهَا فَإِنْ عُدْنَا فَإِنَّا ظَالِمُونَ ﴿١٠٧﴾

نو وبه وائی (کفار) ای ربه ځمونږ غالبه شوی وه پر مونږ بدبختی ځمونږ او وو مونږ یو قوم ګمراهان (چه لیاره د حق شیطان راښخه ورکه کړی وه). ای ربه ځمونږ (یو کرت) وباسه مونږ له دی دوزخه پس که بیا راوګرځیدو مونږ (دی کفر ته) پس بیشکه مونږ ظالمان یو (پر ځانونو خپلو باندی).

**تفسیر:** یعنی دوی به اعتراف کوی چه بیشکه مونږ د خپلی بدبختی او بدقسمتی لامله (له وجی) دلته لویدلی یو او د هغی صافی سمی لیاری څخه په لوی لاس کاږه شوی یو او په خپلو پښو د دغه ابدی هلاکت په کنده کښی لویدلی یو اوس مو دغه ګرد (تول) شیان پخپلو سترګو سره ولیدل نو د لطف او کرم له مخی یو ځلی مونږ له دغه ځایه وباسه! او بیرته مو دنیا ته ولیږه چه ښه عملونه وکړو او له ګناه او خطاء څخه بیخی لری وګرځو او که بیا هم مونږ ستا د احکامو څخه غاړه وغړوله بیا هره سزا چه راکوی مونږ ستا په واک او اختیار کښی یو حال دا چه د دوی دغه وینا هم خطاء ده او دوی پکښی دروغجنان دی او دا وروستنی کلام دی د دوزخیانو چه پس د دی خبری څخه امر د سکوت به ورته وشی نو دغو کفارو ته د ملائکة العذاب په ژبه د الله تعالیٰ له جانبه داسی امر کیږی.

قَالَ اخْسَئُوا فِيهَا وَلَا تُكَلِّمُونِ ﴿١٠٨﴾ إِنَّهُ كَانَ فَرِيقٌ مِّنْ عِبَادِي يَقُولُونَ رَبَّنَآ آمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَأَنْتَ خَيْرُ الرَّاحِمِينَ ﴿١٠٩﴾

وبه فرمائی چه تاسی چپ شئ (پراته اوسئ خوار ذلیل) په دی دوزخ کښی او

مه غرېږئ له ماسره (په دفع د عذاب كښې) بيشكه شان دا دی چه وه يوه ډله له بندګانو ځما (يعنې مؤمنان) چه ويل دوی (تضرعاً) ای ربه ځمونږه پوره يقين او تصديق مو كړی دی (په تولو مؤمن به شيانو باندی) نو مغفرت وكړه مونږ ته (ګناه ځمونږ) او مهربانی راباندی وكړه او ته (ای پروردګاره) خير ډير غوره د تولو مهربانی كوونكيو ئی

**تفسير:** يعنې خوشې چتې (بيكاره) او چپوله (فضول) خبری مه كوئ! اوس هر هغه څه چه مو كړی دی د هغه سزا وګالئ (برداشت كړئ)! له آثارو څخه معلومېږی چه د دی خداوندی جواب د صدور څخه وروسته بيا داسی ناری سوری منقطع كيږی او دوزخيان غير له «زفير» او شهيق څخه به بل كلام نه شی كولی العياذ بالله.

فَاتَّخَذْتُمُوهُمْ سِخْرِيًّا حَتَّىٰٓ أَنسَوْكُمْ ذِكْرِي وَكُنتُم مِّنْهُمْ تَضْحَكُونَ ﴿١١٠﴾

پس نيولی ؤ تاسی دوی مسخری كړی شوی پر دوی تر هغه پوری چه هير كړ (مسلمانانو) له تاسی څخه ای كفارو ذكر ياد ځما (په سبب د مشغولتيا د تاسی ای كفارو په تمسخرو د مسلمانانو كښې او وئ تاسی چه په هغوی پوری مو خندل (هر وقت له ډيره كبره).

**تفسير:** يعنې په دنيا كښې كله چه مسلمانانو د خپل الله په حضور كښې دعاء او استغفار كاوه نو تاسی ورپوری پيچموځی (مسخری) كولی او خندا به مو ور پوری كوله او د هغو د نيكو خصلتونو پوری به مو توقی كولی او دومره د هغوی په تحقير او تكدير پسی لويدلی وئ. چه پاک الله او د جزاء ورځ مو بيخی له ياده وتلی وه او داسی به مو ګڼل چه ګواكی ستاسی پر سرونو باندی له سره هيڅ يو حاكم او كتونكی نشته چه ستاسی د داسی حركاتو يادداشت واخلی او د هغو سختو اعمالو سزا تاسی ته دركړی.

إِنِّي جَزَيْتُهُمُ الْيَوْمَ بِمَا صَبَرُوٓا أَنَّهُمْ هُمُ الْفَآئِزُونَ ﴿١١١﴾

بيشكه زه چه يم جزا می وركړه دوی ته ښه جزا نن ورځ په سبب د هغه چه هغوی صبر كړی ؤ (په اضرار ستاسی) بيشكه هغوی چه دی هم هغوی دی برياليان (رسيدلی خپلو تولو مقاصدو ته).

**تفسير:** بيچاره ګانو مسلمانانو ستاسی پر قولی او فعلی ايذاؤ او اضرارو صبر كړی ؤ وګورئ چه

نن ورځ ستاسی بالمقابل هغوی ته څه ثمره ور په برخه کیږی؟ او دوی داسی یو مقام ته رسولی شوی دی چه هلته به پخپلو هر ډول (طریقه) مقاصدو بریالی (کامران) او کامیاب او له هر قسمه لذائذو او مسراتو سره غاړه په غاړه وی
(بیا وبه فرمائی پخپله الله تعالیٰ قهراً یا وبه وائی پرښته د عذاب له جانبه د الله تعالیٰ داسی چه)

قٰلَ كَمْ لَبِثْتُمْ فِى الْاَرْضِ عَدَدَ سِنِيْنَ ﴿۱۱۲﴾
قَالُوْا لَبِثْنَا يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ فَسْـَٔلِ الْعَآدِّيْنَ ﴿۱۱۳﴾

وبه فرمائی څومره څنډ (ایسارتیا) مو تیر کړی دی تاسی په ځمکه کښی په شمار د کلونو؟. نو وبه وائی (کفار) څنډ (ایسارتیا) مو کړی دی یوه ورځ یا یوه برخه د ورځی نو ته (پخپله) پوښتنه وکړه له حسابګرو څخه.

**تفسیر:** یعنی له پرښتو څخه چه هغوی هر قسم نیکی او بدی شمیرلی دی دغه به ئی هم شمیرلی وی چه «څومره څنډ (وخت) مو تیر کړی دی په ځمکه کښی او څو مدت مو هلته ژوند کړی دی» یعنی په قبر کښی یا د دنیا په ژوندون کښی ـ دغه به هم هلته ډیر لږ په نظر راځی دغه پوښتنه هم د دی لامله (له وجی) کیږی چه په دنیا کښی دوی عذاب ته ډیر زیات تلوار او عجلت کاوه اوس وپوهیدل چه هغه ډیر په سرعت او جلتی ورورسید (کذا فی موضح القرآن).
(نو بیا وبه فرمائی پخپله الله تعالیٰ قهراً یا وبه وائی پرښته د عذاب له جانبه د الله تعالیٰ داسی چه).

قٰلَ اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا قَلِيْلًا لَّوْ اَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۱۴﴾

وبه فرمائی چه نه دی څنډ (تاخیر) کړی تاسی (په دنیا کښی) مګر لږ مدت (په نسبت د عذاب د آخرت که چیری بیشکه تاسی یئ چه پوهیږئ (چه ژوند د دنیا په نسبت د عقبا ډیر لږ دی).

**تفسیر:** یعنی واقعی د دنیا عمر خو ډیر لږ ؤ لیکن که تاسی پر دغه خبره په دنیا کښی د انبیاؤ په خبرو باندی پوهیدئ نو له سره به په دغه فانی متاع به نه مغروریدئ او له انجام څخه به نه غافلیدئ او هغه ګستاخی او شرارتونه به له تاسی څخنی نه صادریدل چه د دنیوی زائلو او فانی لذتونو د مشغولیت او مصروفیت په ضمن کښی له تاسی څخه په ظهور ورسیدل.

أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ ﴿١١٥﴾

آیا پس گمان کوئ تاسي داسي چه بیشکه خبره دا ده چه پیدا کړی مو یئ تاسي عبث (د لوبو دپاره) او (داسي گمان کوئ چه) بیشکه تاسي مونږ ته نه به راوستلی کیږئ (حساب او کتاب ته).

**تفسیر:** داسي نه ده تاسي عبادت ته پیدا شوی یئ او رجوع کوونکی یئ څمونږ دربار ته دپاره د مجازاتو یعنی په دنیا کښي د نیکی او د بدی پوره نتیجه نه دررسیږی ـ که په دی ژوندون پسی بل ژوندون نه وی نو گویا دغه گرده (توله) کارخانه به محض یوه لوبه او تماشا او بیخی یوه بی نتیجی شي وی حال دا چه د الله تعالیٰ ذات له دی نه ډیر اعلیٰ او ارفع دی چه د هغه په نسبت داسي رکیک خیال وکړ شي.

فَتَعَالَى اللَّهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ ﴿١١٦﴾

پس ډیر پورته لوی لوړ دی الله (له عبثیاتو او نورو عیوبو چه) مطلق باچا حق دی نشته هیڅوک لائق د عبادت په رښتیا مگر خو هم دی (یواځی) چه رب مالک د عرش کریم عزت‌ناک دی (چه رحمت تری نازلیږی)

**تفسیر:** هر کله چه هغه لوی خاوند د ملکوت (معنوی دنیا) د لویی او د قوت او د سطوت خاوند او مالک مطلق دی نو له سره دغه امکان نه لری چه دغه عزیز منتقم جلت عظمته دغه تول وفاداران او مجرمان هم داسي خوشي پریږدی او د هغو د ښو بدو اعمالو جزا او سزا ورنه کړی.

وَمَن يَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ لَا بُرْهَانَ لَهُ بِهِ فَإِنَّمَا حِسَابُهُ عِندَ رَبِّهِ ۚ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْكَافِرُونَ ﴿١١٧﴾

او هر څوک چه بولی له الله سره خدای بل (چه د هغه عبادت هم کوی هسی خدای چه) نه دی هیڅ برهان علمی سند ده ته په دغه (عبادت د غیر) پس بیشکه هم دا خبره ده چه حساب (جزاء) د دی (مشرک) په نزد د رب د ده دی (چه سم له استحقاقه ئی ورکوی) بیشکه شان دا دی چه بری نه مومی

(کافران او نه خلاصیږی له عذابه)

**تفسیر:** یعنی هلته به حساب او کتاب کیږی او هر چاته به د ده له جرمه سره سم سزا ورکوله کیږی د دغه سورت ابتداء په فلاح او نجات د مؤمنانو سره کړی شوی ده او ختم په عدم فلاح د کافرانو سره داسی شوی ده چه په پای (اخر) کښې ئی څمونږ رسول صلی الله علیه وسلم په استغفار او استرحام هم مامور ګرځولی دی.

وَقُل رَّبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَأَنتَ خَيْرُ الرَّاحِمِينَ ﴿١١٨﴾ ع

او ووایه (ای محمده!) ای ربه څما مغفرت او رحم وکړه (پر محمد او امت ئی) او ته خیر بهتره ډیر غوره د تولو رحم کوونکیو ئی.

**تفسیر:** یعنی څمونږ له تقصیراتو څخه راتیر شه! او پخپل رحمت مو په دنیا او آخرت کښې سر لوړی کړه! ستا د بی‌نهایته رحمت په مقابل کښې هیڅ شی مشکل نه دی. د ﴿أَفَحَسِبْتُمْ﴾ څخه د سورت ختم پورې دا آیات ډیر فضائل او تأثیرات لری چه د هغه ثبوت له څینو احادیثو څخه کیږی او مشائخو دغه په تجربو سره رسولی دی. ښائی چه د دغه آیت سری ورد ولری! په خاتمه کښې هغه دعاء هم تبرکاً او تفاؤلاً نقل کوو چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه ته تلقین فرمایلی ؤ څکه چه د هغو الفاظ د دی آیاتونو سره مناسب دی

**«اللّهم انی ظلمت نفسی ظلماً کثیراً وانه لا یغفر الذنوب الاانت فاغفرلی مغفرة من عندک وارحمنی انک انت الغفور الرحیم»**

**تمت سورة المؤمنون بفضله ومنه وحسن توفیقه ونرجو منه اکمال بقیة الفوائد.**

سورة النور مدنية وهي (٦٤) آية و (٩) ركوعات رقمها (٢٤) تسلسلهاحسب النزول (١٠٢) نزلت بعد «سورة الحشر»

د «النور» سورة مدنی دی (٦٤)آیات (٩)رکوع لری په تلاوت کښې (٢٤) او په نزول کښې (١٠٢) سورت دی وروسته د «الحشر» له سورته نازل شوی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع) په نامه د الله چه خورا (ډیر) مهربان ډیر رحم والا دی.

سُوْرَةٌ اَنْزَلْنٰهَا وَفَرَضْنٰهَا وَاَنْزَلْنَا فِيْهَآ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ لَّعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ①

دا یو سورت دی چه نازل کړی دی مونږ دا او فرض کړی دی مونږ(احکام د هغه او نازل کړی دی مونږ په دی (سورت) کښې آیاتونه ښکاره دپاره د دی چه تاسی (پری) پند واخلئ (او غور پکښې وکړئ).

**تفسیر:** دغه سورت په ځینو نهایت ضروری احکام ـ حدود امثال ـ مواعظ ـ حقائق ـ توحید او په نورو اهمو تنبیهاتو او اصلاحاتو مشتمل دی، زیاته ممتازه او پوه زیاتونکی برخه هغه ده چه د (افک) له قصی سره تعلق لری. پر أم المؤمنین حضرت بی‌بی عائشی صدیقی رضی الله تعالیٰ عنها منافقینو د دروغو تهمت کړی په هغه کښې ځینی ساده او بی فکره مخلص مسلمانان هم ښوئیدلی او د ثبات او استقامت څخه لږ څه متمائل شوی وو چه د هغه خطرناکه اثر نه یواځی د بی‌بی عائشی صدیقی رضی الله تعالیٰ عنها پر وضعیت لویده بلکه له یوه حیثیته پخپله د رسول الله علیه الصلوٰة والسلام وعلی آله الکرام وعلیٰ اصحابه العظام د مجد او شرف تر درباره هم رسیده نو ځکه ضرورت واقع شو چه لوی قرآن په پوره اهتمام او قوت سره د داسی خوفناکی غلط کاری یا غلط فهمی اصلاح وکړی او د تل دپاره د ایماندارانو غوږونه پرانیځی څو وروسته له دی نه له سره د دښمنانو له تبلیغاتو او انتشاراتو متأثر نشی. نو ځکه ئی د دی سورت شروع په دغو الفاظو سره وفرمایله ﴿سُوْرَةٌ اَنْزَلْنٰهَا وَفَرَضْنٰهَا﴾ الآیة ـ څو مخاطبین وپوهیږی چه د ده مضامین ځان ته اهمیت او یو خاص وقعت لری او د ډیر محفوظ او ټینګ نیولو مستحق دی او هغه صاف صاف نصائح او ترتی ترتی (ټیک ټیک) خبری چه په دغه سورت کښې بیان شوی دی هغه ګردی (ټولی) د دی وړ (قابلی) او لائقی دی چه هر مسلمان ټینګ پخپل زړه کښې ځای ورکړی او تل ئی په یاد ولری او د یوی شیبی له مخی هم د ده د احکامو څخه غفلت ونه کړی که نه د دین

او د دنیا په تباهی او خرابی کښې آخته کیږی.

اوس الله تعالیٰ بیانوی خپل احکام چه ځینی ئی دغه دی

## اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ فَاجْلِدُوْا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ

هغه ښځه چه زنا ئی کړی وی او هغه سړی چه زنا ئی کړی وی (او محصنان وی او ثبوت شی زناء پر دوی په اقرار یا په شهادت) پس وهئ تاسو ای (قاضیانو او حاکمانو) هر یو له دغو دواړو سل دری

**تفسیر:** ترکیب (الزانیة والزانی) دواړه مبتداء دی او خبر ئی (فاجلدوا) دی او دغه الف لام په معنی د (الذی) دی چه متضمن دی معنی د شرط لره ځکه چه (ف) جزائیه پری داخله شوی ده په خبر باندی نو تقدیر ئی داسی دی چه **(التی زنت والذی زنی فاجلدوهما)** لکه چه مونږ پاس ترجمه هم داسی کړی ده دغه سزا د هغه زانی او زانیی ده چه آزاد عاقل او بالغ وی او نکاح ئی هم نه وی کړی یا د نکاح څخه وروسته جماع ئی نه وی کړی او هغه چه آزاد نه وی پنځوس دری وهلی کیږی د هغه حکم پنځمی پاری د اولی رکوع په ختم کښې مذکور دی او هغه چه عاقل یا بالغ نه وی نو دی خو لا نه دی مکلف شوی. په هر هغه مسلمان کښې چه دغه ګرد (تول) صفات (حریت، بلوغ، عقل نکاح جماع) موجود وی نو داسی شخص ته «محصن» وائی نو د دغه محصن سزا چه د زناء مرتکب شی او پری شرعاً اثبات شی «رجم» ؤ یعنی په ګټو ویشتل او سنګساری ده لکه چه د المائده په سورت کښې ئی د تورات په حواله فرمایلی دی ﴿ وَكَيْفَ يُحَكِّمُونَكَ وَعِنْدَهُمُ التَّوْرٰىةُ فِيْهَا حُكْمُ اللّٰهِ ﴾ الآیة - او هغه حکم د الله رجم وو لکه چه د هغه ځای په تفاسیرو کښې تیر شو او رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه سره موافق فیصلی صادری کړی وی او فرمایلی ئی ؤ **«اللّٰهم انی اول من احیا امرک إذ اماتوه** ای الله! زه هغه ړومبی سړی یم چه ستا هغه امر حکم می ژوندی کړی دی چه محو او متروک کړی شوی ؤ» بیا نه یواځی یهودان بلکه هومره داسی قسم واقعات چه وړاندی کیده په هغو ټولو کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم تل محصن زانی ته په رجم سره سزا ورکړی وه وروسته د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له رحلته اصحاب الکرام هم پر هم دغه احکامو د «رجم» اجراآت کول بلکه د اهل السنت والجماعت څخه یو سړی هم د ده پر مخالفت نه دی جرائت کړی. ګواکی متواتره سنت او د اهل الحق اجماع دغه خبره راښوولی ده چه په دغه مسئله کښې محمدی شریعت د توریت حکم باقی پری ایښی دی لکه چه لوی قرآن د عمد قتل په سزا کښې وژل کیدل د توریت په حواله بیان فرمایلی دی ﴿ وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيْهَا اَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ ﴾ او د مرتدانو د قتل حکم بنی اسرائیلو ته ورکول د البقره په سورت کښې بیان کړی شوی دی

﴿فَتُوبُوٓا۟ إِلَىٰ بَارِئِكُمْ فَٱقْتُلُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ﴾ بیا هم دغه احکام د محمد صلی الله علیه وسلم د امت په حق کښې هم ایښود شوی دی شاید د محصن رجم او د قصاص د مسئلې د نقل کولو څخه وروسته په هغه شدت او تاکید چه د ﴿بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ﴾ د حکم د ترک مذمت او بدی ئی بیان فرمائلی ده او په آخر کښې ارشاد شوی دی ﴿وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ فَٱحْكُم بَيْنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ﴾ الآیة ـ له هغه به دا غرض وی چه د تورېت دغه احکام اوس د قرآن تر حفاظت لاندې دی چه د هغو په اجراء او انفاذ کښې نه ښائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د هیچا د اهواؤ او آراؤ لحاظ او پروا وکړی لکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم هم په دغه مورد کښې د هیچا څه پروا ونه کړه او د دوی څخه وروسته راشده ؤ خلفاؤ رضی الله تعالیٰ عنهم اجمعین هم د چا لحاظ او پروا ونه کړه ـ تر دی پوری چه حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه ته د محصن د «رجم» په نسبت دغه اندیښنه پیدا بلکه مکشوفه شوه چه وروسته له دی نه به ځینی زائغین د دغه احکام له تعمیله انکار کوی لکه چه خوارج او ځمونږ د زمانی یوی ممسوخی فرقی تری انکار هم کړی دی نو دوی پر منبر وختل او د صحابه ؤ او تابعینو په لویه مجمع کښې ئی د الله تعالیٰ د دغه حکم اعلان په ډیر تاکید او تشدید سره وفرمایه ـ او په دغه مورد کښې یوه قرآنی یو منسوخ‌التلاوة آیت حواله ئی ورکړه چه په هغه کښې د محصن د رجم صریح حکم موجود دی او د هغه تلاوت وروسته منسوخ شوی دی مګر حکم ئی هم هغسی باقی پاتی دی.

**تنبیه:** د کوم آیت محض منسوخ التلاوت کیدل او حکم ئی باقی پاتی کیدل یوه مستقله مسئله ده چه تحقیق ئی په دغو مختصرو فوائدو کښې نشی درجیدی انشاالله العزیز که د مستقل تفسیر د لیکلو وار راورسید نو هلته به ولیکلی شی.

وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ فِى دِينِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۖ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٌ مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٢﴾

او نه دی نیسی تاسو لره په دغو (دواړو زناکارانو) زړه سوی (او مهربانی) په (انفاذ د) حکم د الله کښې که یئ تاسی چه ټینګ یقین لرئ پر الله او په ورځی آخری (د قیامت)، او حاضر دی شی عذاب کولو د دی دواړو ته یوه طائفه ډله له مؤمنانو څخه (چه فضاحت ئی زیات شی).

**تفسیر:** یعنی که پر الله تعالیٰ یقین لرئ نو د هغه د احکامو او حدودو په اجراء او انفاذ کښې هیڅ تقدیم او تأخیر مه کوئ! داسی ونه کړئ چه د مجرم څخه وویریږئ او د سزا له اجراء څخه لاس وباسئ یا پکښې څه تنقیص وکړئ یا داسی غیر مؤثری خفیفی او معمولی سزا ورکړئ چه د

سزا کیفیت پکښې نه وی ښه وپوهیږئ چه الله تعالیٰ مطلق حکیم او له تاسی څخه زیات پر بندګانو مهربان دی او د ده هر حکم کلک وی که پوست د عالم د مجموعی په حق کښې له حکمت او رحمت څخه نشي عاری کیدی ـ که تاسی د ده د احکامو او حدودو په اجراء کښې قصور کوئ نو د آخرت په ورځ کښې به ستاسی څخه پوښتنه کیږی.

﴿ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٌ مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴾ - او حاضر دی شی عذاب کولو د دی دواړو ته له مؤمنانو)

یعنی دغه سزا دی ګوښی (بیله) ورته ورنه کړه شی بلکه د مسلمانانو په لویه مجمع کښې دی ورته ورکړه شی ځکه چه په هغه رسوائی کښې د سزا تکمیل او تشهیر او کتونکو ته لوی پانیات او عبرت دی او ښائی چه په کښې دغه غرض هم وی چه دغه لیدونکی مسلمانان د ده پر حال باندی زړه وسوځی او د مغفرت دعاوی ورته وکړی والله اعلم.

## اَلزَّانِىۡ لَا يَنۡكِحُ اِلَّا زَانِيَةً اَوۡ مُشۡرِكَةً وَّالزَّانِيَةُ لَا يَنۡكِحُهَاۤ اِلَّا زَانٍ اَوۡ مُشۡرِكٌ‌ۚ

زنا کار سړی نه نکاح کوی (په رغبت محبت سره) مګر خو زناکاره ښځه یا مشرکه ښځه او زناکاره ښځه نه په نکاح کوی (دغی ښځی زانیی لره په رغبت او محبت سره) مګر سړی زناکار یا سړی مشرک

**تفسیر:** د زنا د سزا د بیان کولو څخه وروسته د دی فعل انتهائی شناعت بیان فرمائی یعنی هغه نارینه او ښځه چه په دغه شنیعه عادت مبتلاء وی په حقیقت کښې د دی خبری وړ (مستحق) او لایق نه دی چه له هغه سره د کوم عفیف مسلمان د ازدواج، د ناستی او د ملاستی تعلق قائم کړ شی د هغه د پلیت طبیعت او میلان سره خو دغه مناسب دی چه له هم داسی بد کاره او تباه حاله نارینه او ښځی سره یا له دوی څخنی هم بدتره له کوم مشرک او مشرکی سره د هغه تعلق وی کماقال الله تعالیٰ فی هذه السورة:

﴿ اَلْخَبِيثٰتُ لِلْخَبِيثِينَ وَالْخَبِيثُونَ لِلْخَبِيثٰتِ وَالطَّيِّبٰتُ لِلطَّيِّبِينَ وَالطَّيِّبُونَ لِلطَّيِّبٰتِ ﴾

کوی جنس له خپله جنسه سره سازه ـ هم کوتره له کوتری باز له بازه

د ده د حرکت اصلی اقتضاء خو هم دغه وه ـ اوس دغه بیله خبره ده چه الله تعالیٰ د نورو مصالحو او حکمتونو لامله (له وجی) کوم په نامه سره مسلمان عقد هم له مشرک او مشرکی سره

جائز نه دی فرمایلي. یا مثلاً د بدکاره سړی نکاح که د کومې صالحې ښځې سره وتړله شي نو دغه بالکل باطله نه ده درولې شوی.
**تنبیه:** د دغه آیت داسې تقریر چه مونږ کړی دی بیخي سهل او بې تکلیفه دی په دغه کښې د (لاینکح) معنی هغسې نیولې شوی ده لکه چه په «**السلطان لایکذب**» او نورو محاوراتو کښې اخیسته کیږي یعنی د فعل د لیاقت نفی ـ د فعل نفی له حیثیته ورکړی شوی ده. **فافهم واستقم**

## وَحُرِّمَ ذٰلِكَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ ۝

او حرامه کړی شوی ده دغه (زناء یا نکاح له بد کارو سره د حاصلولو د مبلغ لپاره) پر (صالحانو عفیفانو) مؤمنانو

**تفسیر:** یعنی یو مؤمن په داسې حال کښې چه مؤمن وی څرنګه به داسې حرکت ته اقدام کوی؟ په حدیث کښې راغلي دی «**لا یزني الزاني حین یزني وهو مؤمن**» یا دا مطلب چه له زانیې سره د هغو پرهیزګارانو د نکاح عقد حرام درولې شوی دی چه په صحیح او حقیقي معانی سره د مؤمنانو د خطاب مستحقان دی یعنی په تکوینی دول (طریقه) دغسې پاک او صاف نفوس د داسې خراب او پلیت او ګنده ځایونو په طرف نه متمائل کیږي او تری ساتلي شوی دی په دغه وقت کښې به د «حرم» معنی هم هغسې وی چه «په ﴿ وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ الْمَرَاضِعَ ﴾ کښې. یا په «وحرام علیٰ قریة اهلکناها» کښې نیولې شوی دی والله اعلم.
**فائده:** دغه پاس آیت یوازې د ترغیب دپاره دی په نکاح اخیستلو د عفائفو او شرائفو کښې او ترهیب دی له نکاح کولو د بدکارانو څخه ځکه چه زنا په قبح کښې نژدی ده شرک ته لکه چه عفاف او پاکوالي او تحصن او ودوالي نژدی دی ایمان ته او بل دغه نفي په معنی د نهی نه ده او که په معنی د نهی وی نو منسوخ دی په آیت د ﴿ وَأَنكِحُوا الْأَيَامَىٰ ﴾ سره.

## وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ الْمُحْصَنٰتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوْا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ

او هغه کسان چه اولي محصنې ښځې (یا محصن سړی چه نسبت د زنا ورته وکړی) بیا رانه ولي (په مخ د قاضی حاکم کښې) څلور تنه شاهدان

**تفسیر:** یعنی که په داسې پاک لمنې ښځې باندې د زناء تهمت ولګوی چه د دی بدکاری په کوم دلیل یا په شرعیهؤ قرائنو سره نه وی ثابت (نو وئی وهئ تاسې دغو قاذفانو لره ای قاضیانو او حاکمانو اتیا درې او مه ئې قبلوئ شاهدی ځکه چه سره له حریته بلوغ ـ عقل ـ اسلام او پاکی

فاسقان دی) او هم دغه حکم دی د پرهیزگار نارینه که پری تهمت ولگاوه شی. لکه چه دغه آیات د یوی پاکی عفیفی صدیقی ښځی په قصه کښی نازل شوی دی نو ځکه دلته د هم هغو پر ذکر اکتفاء شوی ده که څلور شاهدان تیر کړی او د هغوی شهادت سم له شرعیه ؤ اصولو سره مقبول واقع شی نو پر هغه مقذوف او مقذوفه به د زناء حد جاری کیږی.

فَاجْلِدُوهُمْ ثَمٰنِيْنَ جَلْدَةً وَّلَا تَقْبَلُوْا لَهُمْ شَهَادَةً اَبَدًا ۚ

پس ووهئ تاسو (ای حاکمانو) دغه (قاذفان که اصیلان وی) اتیا دری او مه قبلوئ تاسی له دوی نه شاهدی هیڅکله (تر وقته د مرگه پوری)،

**تفسیر:** دغه د «قاذف» تهمت لگونکی سزا شوه چه «مقذوف په مطالبه» اتیا دری وهلی کیږی او په مستقبل کښی د تل دپاره په معاملاتو کښی مردودالشهادت درولی کیږی ځمونږ د حنفیانو په مذهب کښی وروسته له توبی ایستلو څخه هم د دوی شهادات په معاملاتو کښی نه قبلیږی

وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ۝ۙ

او دا (قاذفان) هم دوی دی فاسقان.

**تفسیر:** یعنی که په واقع سره ئی عمداً په دروغو سره تهمت لگولی ؤ بیا نو د ده فسق او نافرمانی ظاهره ده که په رښتیاء سره واقعی خبره ئی ویلی وی لیکن په دی باندی پوهیده چه زه د څلورو تنو شاهدانو په شهادت خپله دغه دعوی نشم ثابتولی نو د داسی خبری له اظهاره غیر له دی نه چه د یوه مسلمان پت او عزت خراب کړی بل څه گټه (فائده) نه کوی چه هغه فی نفسه مستقله گناه ده او علماء هغه په کبائرو کښی شمیرلی ده.

اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ وَاَصْلَحُوْا ۚ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝

مگر هغه کسان چه توبه وباسی پس له دغه (قذفه له گناه نه) او اصلاح کړی (نیت او عمل خپل) پس په تحقیق الله ښه مغفرت کوونکی (د خطیاتو) ډیر رحم والا دی (په انعام د اجر او ثواب سره)

**تفسیر:** یعنی وروسته له توبی او د حال اصلاحه ښونکی پاک مهربان الله به دا د فاسق نوم تری پورته کوی او د الله تعالیٰ په نافرمانو بندگانو کښی به نه شمیرلی کیږی. اگر که د پخوانی

قذف په سزا کښې بيا هم مردودالشهادت پاتې دی هم دغه په اسلافو کښې د قاضی شريح ـ ابراهيم نخعی ـ سعيد بن جبير ـ مکحول ـ عبدالرحمٰن بن زيد بن جابر ـ حسن بصری ـ محمد بن سيرين او سعيد بن المسيب رحمهم الله مذهب دی کما فی الدر المنثور و ابن کثير.

## وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ اَزْوَاجَهُمْ

او هغه کسان چه اولی ښځی (محصنی پاکی له زناء څخه په زناء سره)

**تفسير:** يعني د زناء تهمت ولګوی يا خپل د ووړکی په نسبت ووائی چه دغه ځما له نطفی څخه نه دی.

وَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ شُهَدَآءُ اِلَّآ اَنْفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ اَحَدِهِمْ اَرْبَعُ شَهٰدٰتٍۢ بِاللّٰهِ ۙ اِنَّهٗ لَمِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۶﴾ وَالْخَامِسَةُ اَنَّ لَعْنَتَ اللّٰهِ عَلَيْهِ اِنْ كَانَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿۷﴾ وَيَدْرَؤُا عَنْهَا الْعَذَابَ اَنْ تَشْهَدَ اَرْبَعَ شَهٰدٰتٍۢ بِاللّٰهِ ۙ اِنَّهٗ لَمِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿۸﴾ وَالْخَامِسَةَ اَنَّ غَضَبَ اللّٰهِ عَلَيْهَآ اِنْ كَانَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۹﴾

حال دا چه نه وی دوی ته شاهدان (په دی کار د زناء کښې) مګر نفسونه د دوی (يعني پخپله حاضر وی) پس (واجبه ده په دی کښې) شاهدی د يوه د دوی څلور شاهدی په (نامه) د الله (په دی خبره چه) بيشکه دی خامخا له صادقانو رښتيا ويونکيو دی (په دغه نسبت د زناء کښې) او پنځمه (شاهدی) (داسی ده چه) بيشکه لعنت د الله دی وی پر دغه (ميړه) که وی (دی) له دروغجنانو څخه. او دفع کوی له دغی ښځی څخه عذاب (د حد ثابت په وينا د ميړه ئي) دا (کار) چه شاهدی ولولی (دا ښځه) څلور (واری) شاهدی (په نامه) د الله (په دی خبره چه) بيشکه دا ميړه ځما خامخا له دروغ ويونکيو دی(په نسبت د زناء په ما باندی) او پنځمه (شاهدی داسی ده) چه ووائی بيشکه غضب د الله دی وی په دی (ښځی) که چيری وی (دا ميړه می) له

صادقانو رښتيا ويونکيو څخه.

**تفسير:** يعني هر هغه ميره (خاوند) چه پر خپلې ښځې د زناء تهمت ولګوي اولاً له ده نه به څلور شاهدان طلب کړه شي ـ که ئې راحاضر کړې نو پر ښځه دې د زناء حد جارې کړ شي. که ئې شاهد نه شو حاضرولې نو ده ته دې وويلې شي چه څلور ځلې دې په قسم يادولو سره بيان کړي چه زه په خپله دغه دعوی کښې رښتينې يم (په دغه تهمت کښې چه مې پر خپله ښځه لګولې دی دروغ نه وايم) ګواکې د څلورو شاهدانو په ځای پخپله د ده څلور (کرته) حلفيه شهادات دی. او په آخر کښې په پنځمه مرتبه کښې دغسې به وائې چه «که دې پخپله دغه دعوی کښې دروغجن وی نو پر ده دې د الله تعالیٰ لعنت وی» که د دغو پاس الفاظو د ويلو څخه انکار وکړی نو بندی دې کړ شي او حاکم دې دې مجبور کړي چه يا دې پر خپل دروغ ويلو اقرار وکړی او د قذف په حد محکوم شي چه پاس ئې ذکر وشو يا دې پنځه کرته همغه الفاظ ووايي چه پاس مذکور شو. که ميره (خاوند) دغه الفاظ ووائې نو بيا ښځې ته دې وويل شي چه هغه دې هم څلور ځلې په قسم يادولو سره داسې بيان وکړي چه «ميره (خاوند) مې په دغه تهمت لګولو کښې دروغجن دی» او پنځم ځلې دې دغه الفاظ ووائي چه «د الله غضب دې نازل شي پر دې ښځه باندې که ئې دغه ميره (خاوند) پخپله دغه دعوی کښې رښتين وی» تر څو که ښځه دغه الفاظ ونه وائې بندې دې وساتلې شي چه يا دې په صاف ډول (طريقه) سره خپل د ميره (خاوند) د دعوی تصديق وکړي چه د زنا حد پرې جارې شي. يا په پاس مذکوره الفاظو سره ئې تکذيب وکړي که ښځه هم د خپل ميره (خاوند) پشان دغه الفاظ ووائي او له «لعان» څخه فراغت ومومي نو بيا له دغې ښځې سره جماع او د جماع دواعي ګرد (ټول) حرام شول بيا که ميره (خاوند) دې ته طلاق ورکړي ښه! که نه قاضي دې د دوی دواړو په منځ کښې تفريق وکړي اګر که دغه واړه پر دغه افتراق راضي هم نه وی يعنې قاضي دې په ژبه سره ووائي چه «ما د دغو دواړو په منځ کښې سره تفريق وکړ» نو دغه تفرق د بائن طلاق حکم لری.

(۱): ـ **تنبيه:** پر زوجينو باندې دا قسم الفاظو لولولو ته په شريعت کښې «لعان» وائي او «لعان» خاص په قذف الازواج پورې مخصوص دی د نورو محصناتو ښځو د «قذف» حکم هم هغه دی چه پاس مذکور شو.

(۲): ـ **تنبيه:** دغه څلور شاهدی ئې ځکه مقرری کړی چه اصل خو څلور شاهدان ؤ کله چه هغه پيدا نه شول نو د هرې يوې شاهدی په ځای يو سرې ودريده او پنځمه په ځای د «تزکيي» کښې شوه.

وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ وَأَنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ حَكِيمٌ ﴿١٠﴾

او که نه وی فضل (احسان) د الله پر تاسې او رحمت د ده او (بل دا نه وی

چه) بیشکه الله ډیر توبه قبلوونکی لوی حکمت والا دی (نو رسوا او معذب شوی به وی په دنیا کښې)

**تفسیر:** د «لولا» جواب محذوف دی لکه چه څمونږ له ترجمې څخه ښکاریږی چه که نه وی فضل او احسان د الله تعالیٰ پر تاسو باندی نو خامخا به ئې شرمولی وی تاسو یا ژر به ئې په عذاب کړی وی تاسو یعنی که دغه د «لعان» حکم مشروع نه وی نو د «قذف» د عمومی قاعدی سره موافق به پر میړه (خاوند) قذف اوښته یا به ئې ګرد (تول) عمر د خپل ځیګر وینی څښلی او لړمون خوړینی به ناست ؤ ځکه ممکن دی چه دی رښتین وی په خلاف د غیر د میړه (خاوند) چه هغه د دغسی اظهار دپاره مضطر نه دی ځکه د هغه په قانون کښې د دغو امورو رعایت ضروری نه دی. له بل لوری که یواځې د میړه (خاوند) په قسم خوړلو د زناء ثبوت کیدی نو د ښځې لپاره به ډیر سخت مصیبت او زحمت پیښیده ـ حال دا چه ممکن دی هغه رښتین هم وی هم داسی که ښځه د دی په قسم خوړلو سره یقیناً بری وګڼله شی نو پر میړه (خاوند) به د قذف حد لازمیده ـ سره له دی چه د ده په صداقت کښې هم مساوی احتمال موجود دی ـ نو په دغه حالت کښې د «لعان» په مشروعیت کښې د ګردو (تولو) رعایت وشو او هم دغه د الله تعالیٰ د فضل او رحمت اثر دی ځکه چه په فریقینو کښې هر یو چه رښتین وی هغه د بی محله سزا څخه نجات ومونده په دغه وړی دنیا کښې پرده پوښی کړی او مهلت ئې ورته ورکړی دی چه ښائی توبه وباسی بیا د ده د توبې قبلول دغه د الله تعالیٰ د توابیت د صفت اثر شو

إِنَّ الَّذِينَ جَاءُو بِالْإِفْكِ عُصْبَةٌ مِّنكُمْ ۚ لَا تَحْسَبُوهُ شَرًّا لَّكُم ۖ بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُم مَّا اكْتَسَبَ مِنَ الْإِثْمِ ۚ وَالَّذِي تَوَلَّىٰ كِبْرَهُ مِنْهُمْ لَهُ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١١﴾

بیشکه هغه کسان چه راوړی ئې دی غټ دروغ (په شان د عائشې کښې) یو تولی دی له تاسی (مسلمانانو) نه ګمان مه کوئ په دی (دروغو) چه شر بد دی تاسی ته (ای مخلصانو مؤمنانو) بلکه دغه (دروغ) خیر دی تاسی ته (له جهته د ثواب او منقبت د تاسی) مقرر دی هر سړی ته له دغو (بهتان ویونکیو جزاء د) هغه څیز چه ګټلی ئې دی له ګناه (په قدر د خوض او شغل د ده)، او هغه څوک چه پورته ئې کړ لوی بار پیتی د دغو (دروغو او شائع ئې کړل) له دغه (تولی) نه شته ورته عذاب لوی (په دارینو کښې)

**تفسیر:** دلته د هغو غلتو دروغو ذکر دی چه پر حضرت صدیقی بی‌بی عائشی رضی الله تعالیٰ عنها ترلی شوی ؤ دغه پیښه داسی وه چه نبی کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم د هجری په (٥) یا په (٦) کال کښی د (بنی المصطلق) له غزوی څخه د مدینی منوری په طرف بیرته تشریف راوړ ام المومنین صدیقه بی‌بی عائشه رضی الله تعالیٰ عنها هم له دوی سره وه ـ بی‌بی صاحبه پر بل اوښ سوره وه چه پری هودج (پالکی) ترلی او پردی به ئی ځوړندی او شکته به وی او جمال به لا له پخوا هودج (پالکی) پری تاړه ـ په یو منزل کښی چه د دوی قافله شکته شوی وه لږ شیبه پخوا له کوچ حضرت صدیقی بی بی عائشی ته د وضؤ د تجدید ضرورت محسوس شو نو ځکه له قافلی څخه څه قدر لری او ګوښی (جدا) لاړه. په دی ضمن کښی یو ناڅاپه د دی د غاړی غاړکی (امیل) وشلیده او دانی ئی (چه د جزع یمنی څخه وی) په شګو کښی سره تیت و پرک (منتشر) شوی نو د هغو په تولولو او لټولو دا ډیره وځنډیده (ایساره شوه) هلته قافلی کوچ وکړ او له خپله ځایه ولټیدله او ګرد (تول) سره لاړل. جمال هم داسی ګمان وکړ چه لکه بی‌بی صاحبه په هودج (پالکی) کښی ناسته ده ځکه چه د هغه ګردی (تولی) پردی شکته ځوړندی وی او تولی پیلیاری (پردی) شکته لویدلی وی او ذاتاً بی‌بی صاحبه په عمر کښی هم وړوکی او په بدن کښی هم ډیره ضعیفه او نحیفه وه چه د دی د وجود او عدم وجود له هودج (پالکی) د باندی ښه نه ښرګندیده.

الغرض جمالانو خپل اوښان رهی (روان) او چالان کړل او ګرد (تول) سره لاړل. لکه چه ام المؤمنین بیرته راغله که ګوری چه قافله تللی ده ـ او هیڅ اثر او نښه ئی هم نه ښکاری.

نو ام المومنین په نهایت ثبات او استقامت سره دغسی رأیه قائمه کړه چه اوس له دغه ځایه خوځیدل خلاف‌المصلحت دی ـ ولی که زه د دغو شګو په کرمونو کښی د قافلی تعقیب هم وکړم په هغوی پسی نشم رسیدی او امکان لری چه لیاره هم راڅخه ورکه شی ـ که دلته واوسیږم هر کله چه لمر وخیژی او ځما متعلقین په دی وپوهیږی چه زه په هودج (پالکی) کښی نه یم او ځما پالکی تشه روانه ده نو هرومرو (خامخا) به هم دلته په منده او ځغاښته راپسی راشی نو هملته پاتی شوه.

کله چه شپه وه پر ام المؤمنین د خوب شومه راغله، هملته ئی خپل مبارک سر کیښود.

کله چه حضرت صفوان بن معطل رضی الله عنه د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په امر مأمور ؤ چه تل به دی وروسته له قافلی راځی ـ او د پاتی شویو شیانو خبر نیونه به کوی نو ځکه دی تل د قافلی څخه په لږ څه فاصله لری اوسیده او همیشه د قافلی تر شا وروسته له پلتنی (تحقیق) به راته. حضرت صفوان رضی الله تعالیٰ عنه دغه ځای ته ګهیځ (سحر) راورسید او له لری څخه ئی ولید چه کوم اوده پروت دی ـ کله چه ورنژدی شو نو د ورپیچلی (نغښتلی) شوی تکری (څادر) څخه یی وپیژنده چه دا خو ځما مور ام المؤمنین صدیقه بی‌بی عائشه ده ځکه چه پخوا د حجاب د حکم له نزوله هم دغه معنوی ځوی او مور سره پیژندل.

حضرت صفوان رضی الله تعالیٰ عنه د دغه وضعیت د لیدلو څخه سخت ولړځید ـ او ډیر وویرید او

په زور سره ئی ﴿ إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ﴾ وویل چه د هغه په اثر د ام المؤمنین رضی الله تعالیٰ عنها سترگی خلاصی شوی او هم هغسی مخ پیچلی (پټ مخ) او په خپل تکری کښی تاو شوی کیناسته.

حضرت صفوان رضی الله تعالیٰ عنه خپل اوښ ام المؤمنین رضی الله تعالیٰ عنها ته نژدی چو کړ ـ او ام المؤمنین رضی الله تعالیٰ عنها هم هغسی پټه پری سوره شوه ـ او صفوان رضی الله تعالیٰ عنه د اوښ مهار پر خپله اوږه باندی کیښود او د قافلی تر شا روان او ورسره گډ شول.

راس المنافقین و امام المکذبین عبدالله بن ابی چه د مدینی منوری ډیر خبیث ـ بدباطنه خان او د منافقانو مشرف او د رسول الله صلی الله علیه وسلم دښمن ؤ ـ دلته چه داسی یوه خبره او موضوع ورپیدا شوه نو په چتی (بیکاره) او چپوله (فضول) خبرو ئی خوله وسپړدله ـ او ځینی ساده او ناپوهان مسلمانان مثلاً په نارینه ؤ کښی حضرت حسان ـ حضرت مسطح ـ او په ښځو کښی حمنه بنت جحش رضی الله تعالیٰ عنهم اجمعین د منافقانو په دغه انتشاراتو او گمراه کوونکیو خبرو تیروتل او په دغسی افسوسناکو تذکرو کښی سره لگیا شول چه د هغو ویل دوی ته نه ؤ لازم او د ام المؤمنین رضی الله تعالیٰ عنها د عفت او عصمت سره بیخی منافی ؤ ـ مسلمانانو ته بالعموم ـ او پخپله رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته له داسی قسم واهیاتو خبرو ښخه سخته صدمه ورسیده. تر یوی میاشتی پوری دغسی چتی (بیکاره) خبری سره کیدی او رسول صلی الله علیه وعلیٰ آله وصحبه اجمعین به هم دغه گردی (تولی) خبری اوریدی او هیڅ به ئی نه ویل ـ او نه د هغو په تحقیق پسی گرځیده ـ مگر په زړه کښی سخت خفه ؤ وروسته له یوی میاشتی پخپله ام المؤمنین عائشه صدیقه رضی الله تعالیٰ عنها هم له دغه شهرت ښخه خبره شوه ـ نو د غم له شدته ناقراره شوه ـ او د رنځورئ په بستره کښی ولویده شپه او ورځ به ئی ژړل ـ او د یوی شیبی له مخی به ئی هم اوښکی نه دریدی. په دغه ضمن کښی نور واقعات هم پیښ شول ـ او ډیری خبری اتری سره کیدلی چه په صحیح بخاری شریف او نورو کښی د لوستلو قابل دی ـ او بالاخر د حضرت ام المؤمنین صدیقی رضی الله تعالیٰ عنها په برائت کښی بالذات الله تعالیٰ دغه آیت ﴿ إِنَّ الَّذِينَ جَاءُو بِالْإِفْكِ ﴾ الآیة ـ تر لری ځایه پوری نازل وفرمایه ـ چه ام المؤمنین عائشی صدیقی رضی الله تعالیٰ عنها تل فخر پری کاوه ـ او بالحق چه پر دغه هومره فخر او ویاړ چه وکړی لږ دی.

﴿ عُصْبَةٌ مِّنكُمْ ﴾ ـ یو تولی دی له تاسو مسلمانانو ښخه) یعنی دغه دروغ تړونکی له خیره سره همغه کسان دی چه په دروغو یا په رښتیا سره د اسلام مدعیان دی ـ او خپلو ځانونو ته مسلمانان هم وائی ـ له دوی ځنی څو تنه سری سره یو ځای شوی دی ـ او داسی چتی (بیکاره) خبری ئی سره تړلی دی ـ او څه خلق په ناپوهی سره پر دغه چغلی او چتی (بیکاره) دروغو غولیدلی دی ـ خو بیا هم د الله تعالیٰ لوی احسان دی چه گرد (تول) مسلمانان په دغه لومه کښی نه دی نښتی.

﴿ لَا تَحْسَبُوهُ شَرًّا لَّكُم بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ﴾ ـ گمان مه کوئ په دی دروغو چه شر بدی تاسو ته

ای مخلصانو مؤمنانو بلکه دغه دروغ خیر بهتر دی تاسو ته له جهته د ثواب او منقبت د تاسو) دغه خطاب د هغو مسلمانانو د تسلی دپاره دی چه هغوی ته له دغی واقعی څخه صدمه رسیدلی وه بالخصوص حضرت صدیقه بی‌بی عائشه رضی الله تعالیٰ عنها او د دی کورنی ته ځکه ظاهر دی چه هغه ډیره سخته خفه او ویرجنه وه یعنی اگر که په ښکاره ډول (طریقه) دغه وبناوی ډیری مکروهی خفه کوونکی او خرابی دی لیکن فی الحقیقت تاسی ته د ده په منځ کښی ډیره بهتری او محاسن پټ وه آیا دومره مدت د تاسی پر داسی زړه خوږونکو حملو او ایذاؤ صبر کول هم داسی بی اجره پاتی کیږی آیا دغه لږ فخر او شرف دی چه بالذات خالق‌الکائنات پخپل پاک کلام کښی ستاسی نزاهت او برائت نازل کړ او ستاسی دښمنان ئی خوار‌وزار او رسوا کړل او تر قیامت پوری ئی ستاسی د خیر ذکر د گردو (تولو) قرآن لوستونکیو پر ژبه جاری کړ او مسلمانانو ته ئی د رسول الله علیه الصلوٰة والسلام او د ده د ازواجو او اهل البیت د حق پیژندلو دپاره داسی یو درس ورکړ چه له سره هیریدونکی نه دی فلله الحمد علیٰ ذلک.

﴿ لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُم ﴾ - مقرر دی هر سړی ته له دغو بهتان ویونکو جزاء د هغه څیز چه گټلی ئی دی له گناه او هغه څوک چه پورته ئی کړ لوی بار د دغو دروغو له دغه شته ورته عذاب لوی. یعنی هر هغه سړی چه په دغه فتنه کښی هومره حصه واخیسته همغه قدر گناه ئی د خپل ځان لپاره وگټله او د هغی د سزا مستحق شو مثلاً ځینی کسان خوشال شول او په ډیر خوند او مزه سره ئی د دغو واهیاتو خبرو تذکره کوله ځینو د افسوس د اظهار په ډول (طریقه) - ځینو د تحقیق او تفتیش په اصول - خامخا د دغی خبری په شاؤ خوا کښی ئی گرویگنی (تپوسونه) او پلیتنی (تحقیقونه) کولی او رسول الله صلی الله علیه وسلم پخپله پته خوله ناست او دغه گردی (تولی) خبری ئی اوریدی. ځینی به د داسی خبرو د آوریدلو څخه په تردد او اندیښنه کښی لویدل. ډیر کسان به په دغه مورد کښی چپ ناست وو. ډیرو کسانو به ئی د دغو افواهاتو تکذیب کاوه چه د دغو وروستنیو خلقو وضعیت پاک الله پسند او غوره کړ او نورو گردو (تولو) ته ئی درجه په درجه الزام واړاوه او د دی گناه ډیر لوی بار اخیستونکی رأس‌المنافقین عبد الله بن ابی ؤ لکه چه په ډیرو روایاتو کښی تصریح ده هم دغه خبیث به نور خلق له خپله ځانه سره تولول او دغه خبری به ئی په غوږونو کښی ورځخولی او دوی به ئی سراښول او غولول او خپله لمن به ئی په ډیر مهارت او چالاکی سره تری تولوله او په نورو باندی ئی هغه شائع کوله نو په آخرت کښی ډیر لوی عذاب خو د ده دپاره هرومرو (خامخا) شته لیکن په دنیا کښی هم دغه ملعون ډیر ذلیل او رسوا شو او تر قیامته به دی په ذلت او خواری سره یادیږی.

لَوْلَآ إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَٰتُ بِأَنفُسِهِمْ خَيْرًا وَقَالُوا هَٰذَآ إِفْكٌ مُّبِينٌ ﴿١٢﴾

ولې نه په هغه وقت کښې چه واوريده تاسي دا خبره گمان کاوه ايماندارو سړيو او ايمان دارو ښځو په نفسونو خپلو(پخپلو منځونو) کښې د خير (خبرې) او ويلې وې (دوی تولو داسې) دا خبره دروغ ده ښکاره.

**تفسير:** يعني مسلمانانو ته ښايي چه له خپلو مسلمانانو وروڼو خويندو سره حسن ظن ولري او هر کله چه واوري چه خلق پر يو نيک سړي هم داسې چتې (بيکاره) «رجمابالغيب» بدې خبرې او خراب تهمتونه لګوي نو ښائي چه دې داسې خيالاتو ته پخپل زړه کښې ليار ور نه کړي بلکه د هغو تکذيب دې وکړي رسول کريم عليه افضل الصلوٰة والتسليم فرمايلي دي هر څوک چه پشي‌شا د خپل يوه مسلمان ورور مدد وکړي نو الله تعالیٰ هم د ده پشي‌شا مدد کوي ـ بې‌تحقيقه او تعمقه تهمتونه تراشل له ايمانه بعيد دي ښائي چه هر سړی پر خپل پت (غيرت) او عزت د بل پت (غيرت) او عزت قياس کړي لکه چه ابو ايوب انصاري رضی الله تعالیٰ عنه او نورو د «افک» په قصه کښې وکړل. يوه ورځ د ده ښځې وويل چه «خلق د بي‌بي عائشې صديقې په. نسبت دغسې خبرې کوي» ده وويل چه ګردې (تولې) دروغ دي آيا ته به داسې کار وکړې شې؟ دې وويل چه نه! نو ابو ايوب رضی الله تعالیٰ عنه وويل بيا نو د صديق اکبر رضی الله تعالیٰ عنه لور د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم کده (تبر) د مسلمانانو مور د عربستان ملکه حضرت بي‌بي عائشې صديقې رضی الله تعالیٰ عنها په نسبت چه له تا نه ډيره لوړه ـ پاکه ـ صافه ـ طاهره ـ مطهره ده داسې گمان بيخي چتې (بيکاره) او فضول دی.

لَّوْلَا جَآءُو عَلَيْهِ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا بِالشُّهَدَآءِ فَأُولَٰٓئِكَ عِندَ اللَّهِ هُمُ الْكَٰذِبُونَ ﴿١٣﴾

ولې نه راوسته (او تير نه کړي دوی) په دې خبره څلور شاهدان (چه شاهدي ورکړي وی په دې قذف د دوی) پس کله ئې چه رانه وستل څلور شاهدان پس دغه کسان په نزد د الله کښې هم دوی دروغجنان دي.

**تفسير:** يعني سم د الله تعالیٰ له حکمه او د ده د شريعت سره موافقه دغسې خلق دروغجنان

درولی شوی دی چه پر بل چا باندی تهمتونه لګوی او بیا د هغه اثبات دپاره څلور شاهدان نشی وړاندی کولی او بی له کافی ثبوته داسی غټی خبری له خپلی ژبی څخه وباسی او چتی (بیکاره) پری وئیږی.

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ لَمَسَّكُمْ فِيْ مَآ اَفَضْتُمْ فِيْهِ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۴﴾

او که نه وی فضل احسان د الله پر تاسی او رحمت د دغه (الله پر تاسی) په دنیا کښی (په توفیق د توبی سره) او په آخرت کښی (په عفو او مغفرت سره) نو خامخا رسیدلی به ؤ تاسی ته په هغه دروغ کښی چه غوپی وهلی تاسی په هغو (دروغو) کښی عذاب لوی (په هم دغه دنیا کښی)

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ دوی ته د خپل رسول صلی الله علیه وسلم په طفیل له عذابونو څخه نجات ورکړ که نه دغه خبره د عذاب لائقه ده. (موضح القرآن) له تاسو ځینی مخلصینو ته د توبی توفیق هم ورکړ ـ خطا ئی ورمعاف کره ـ که نه د منافقینو پشان دوی هم د قیامت په ورځ په لوی عذاب کښی اخته کیدل. (العیاذبالله).

اِذْ تَلَقَّوْنَهٗ بِاَلْسِنَتِكُمْ وَتَقُوْلُوْنَ بِاَفْوَاهِكُمْ مَّا لَيْسَ لَكُمْ بِهٖ عِلْمٌ وَّتَحْسَبُوْنَهٗ هَيِّنًا ۖ وَّهُوَ عِنْدَ اللّٰهِ عَظِيْمٌ ﴿۱۵﴾

کله چه واخیست تاسو دا (افک) په ژبو خپلو (چه یو له بله مو پوښتنه کوله) او ویله به مو په خولو خپلو سره هغه خبره چه نه ؤ تاسو ته په هغی باندی هیڅ علم او ګڼله تاسی دغه خبره آسانه (چه هیڅ ګناه پکښی نشته) حال دا چه دغه (خبره) په نزد د الله کښی ډیره لویه ده (له حیثیته د ګناه نه).

**تفسیر:** یعنی د عظیم عذاب مستحق ولی نه کیدل ـ کله چه تاسی بی تحقیقه یو ظاهرالبطلان خبره یو د بل له خولی څخه اخیستله ـ او له خپلو ژبو څخه ئی دغه چتی (بیکاره) او اټکلی خبری ایستلی چه د هغو له واقعیت څخه تاسی بیخی نه وئ خبر بیا عجیبه خبره لا دا ده چه داسی سخته خبره (یعنی کومه محصنه خصوصاً د نبی علیه السلام مطهره زوجه او ځمونږ د

مسلمانانو روحانی والده متهم کول) چه د الله تعالیٰ په نزد ډیر لوی دروند جرم دی، یوه وړوکی او معمولی خبره ګڼله له دغه اصلی جرم څخه لوی جرم دی.

وَلَوۡلَآ إِذۡ سَمِعۡتُمُوهُ قُلۡتُم مَّا يَكُونُ لَنَآ أَن نَّتَكَلَّمَ بِهَٰذَا سُبۡحَٰنَكَ هَٰذَا بُهۡتَٰنٌ عَظِيمٞ ﴿١٦﴾

ولی نه کله چه واوریده تاسی دا خبره ویل تاسی چه نه ښائی مونږ ته دا کار چه خوله وخوځوو په دی خبره باندی پاکی د تا (ای ربه) دا دروغ دی ډیر لوی (چه تړلی شوی دی د منافقانو له خوا).

**تفسیر:** یعنی اول خو د حسن‌الظن اقتضاء داسی وه چه ستاسو په زړونو کښی هم ښائی دغه خبری نه تیریدی لکه چه پاس ارشاد وشو - لیکن که د شیطانی اغواء له سببه ئی فرض کړئ د چا په زړه کښی کومه بده وسوسه تیره شی - یا ئی له چانه واوری نو بیا جائز نه دی چه داسی ناپاکه خبره پر خپله ژبه راوړی - لازم دی چه په هسی مواردو کښی مؤمن خپل حیثیت او دیانت ملحوظ ولری او په صافو الفاظو سره داسی ووائی چه د داسی بی سرو پښو خبری له خپلی ژبی څخه ایستل ماته نه ښائی او نه زه پری ښه ښکارم - ای الله ته پاک ئی څرنګه خلق داسی نامعقولی خبری له خپلی خولی څخه وباسی آیا هغه پاکه - صافه - متقیه میرمن چه تا د سید الانبیاء او رأس‌المتقین د زوجیت لپاره غوره او مخصوصه کړی ده هغه (معاذ الله) څرنګه هم خپل ځان بی پته (بی غیرته) کوی؟ او هم (استغفر الله) پخپله دغه وضعیت سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم پت (غیرت) باندی هم داغ لګوی (حاشا - ها - ثم حاشا- ها!) دغه خو د دښمنانو له طرفه پر یوه بی‌قصوره باندی بهتان تړلی شوی دی.

يَعِظُكُمُ ٱللَّهُ أَن تَعُودُواْ لِمِثۡلِهِۦٓ أَبَدًا إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿١٧﴾

پند درکوی تاسی ته الله (او منع کوی مو) چه بیا ونه ګرځئ تاسی مثل د دی خبری ته هیڅکله که چیری یئ تاسی مؤمنان (نو پری عبرت واخلئ!)

**تفسیر:** یعنی مؤمنانو ته ښائی چه په پوره ډول (طریقه) سره پوهان او هوښیاران شی - څو د بد باطنو منافقانو په چلونو او فریبونو سره ونه غولیږی او د دوی په پلمو (تدبیرونو) سره تیر نه وځی - او تل تر تله د نبی علیه وعلیٰ آله واصحابه الصلوٰة والسلام او د ده د اهل بیتو د عظمت شان ملحوظ ولری.

وَيُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ ۗ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝١٨

او بیانوی الله تاسی ته آیتونه (د پند) او الله ښه علم والا دی ښه حکمت والا دی.

**تفسیر:** یعنی د دی خبری پته درښیږ چه دغه غټ دروغ چا جوړ کړی؟ او خپور (مشهور) کړی دی؟. معلوم شو چه منافقانو تل په پته دښمنی او مخالفت کاوه په پخوانی آیت کښی ئی دغه خبره راښکاره کړی وه (کذا فی الموضح) عموماً مفسرانو له آیاتونو څخه احکام ـ نصائح ـ حدود ـ د توبی قبول او نور مضامین مراد کړی دی ـ په دغه وقت کښی به د علم او حکمت د صفاتو له ذکر کولو څخه دغه غرض وی چه الله تعالیٰ له تاسی څخه د مخلصینو د قلبی ندامت او د نیاتو او د اعمالو او اقوالو پر حال ښه خبردار دی ـ نو ځکه ئی د هغوی توبه قبوله کړه ـ او څرنګه چه حکیم مطلق دی نو ځکه ئی په نهایت حکمت او علم سره تاسی ته تنبیه او ویښتیا هم درکړه او د ده ګرد (ټول) احکام د بندګانو پر مصالحو مبتنی دی.

إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ۚ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ۝١٩

بیشکه هغه کسان چه خوښوی دغه (خبره) چه خوره شی فاحشه بدنامی په حق د هغو کسانو کښی چه ایمان ئی راوړی دی شته دغو (کسانو) ته عذاب دردناک په دنیا کښی (په حد د قذف او په بدنامی سره) او په آخرت کښی (په اور د دوزخ سره) او الله ښه عالم دی او تاسی نه پوهیږئ (پر ضرر د هغی خوری کړی فاحشی).

**تفسیر:** یعنی بدکاری شائع او خوره شی ـ یا د بدکاری اطلاعات او خبری منتشری او خوری شی ـ دغسی غوښتونکی منافقان ؤ لیکن د هغوی په تذکره کولو کښی ئی مؤمنانو ته هم تنبیه وفرمایله چه فرض ئی کړئ که د چا په زړه کښی د کومی بدی خبری خطره تیره شوی وی ـ او په بی پروائی سره ئی کومه خبره له ژبی څخه هم وتلی وی نو ښائی چه بیا د هغی مهملی خبری تذکره له سره ونه کړی او د هغی په تشییع او تنشیر (اشاعت) پسی ونه ګرځی ـ که خامخا د کوم مؤمن پت او عزت تویوی نو ښه دی وپوهیږی چه د هغه پت او عزت هم محفوظ نه پاتی کیږی ـ او حق تعالیٰ هغه ذلیل او خواروی کما فی حدیث امام احمد رحمه الله په دی شان سره

چه په دنیا کښې د قذف حد پرې اجراء کیږي ـ او قسم قسم سپکتیا او بدنامي ئې په برخه کیږي او نورې رسوائي او سزاوې هم وررسیږي او په آخرت کښې د دوزخ سزا دوی ته تیاره او مهیاء ده او الله تعالیٰ ته داسې فتنه اچوونکي ښه معلوم دي او ښه ئې پیژني اګر که تاسې ئې نه پیژنئ ـ او دغه هم د پاک الله په علم کښې شته چه د کوم یوه جرم او ګناه څومره ده؟ او غرض او مقصد ئې څه ؤ؟.

**تنبیه:** ـ د فاحشې د شیوع حب د حسد او کینې او نورو په شان د قلبیه ؤ اعمالو څخه دی او د وسوسو او خواطرو په شان نه دی ـ او د قصد له مراتبو څخه نه دی نو ځکه د هغه په مأخوذیت کښې نه ښائي چه اختلاف وکړی شي. فتنبه له.

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ وَاَنَّ اللّٰهَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۰﴾

او که نه وی فضل احسان د الله پر تاسې باندې او رحمت مهرباني د ده او (دا نه وی) چه بیشکه الله ښه نرمي کوونکی ښه رحم والا دی (نو رسوا او معذب شوی به وی په دنیا کښې)

**تفسیر:** یعني دغه غټ دروغ خو داسې ترلې او خواره شوی ؤ چه نه ؤ معلوم چه څومره کسان له هغه ځنې جاریدل. لیکن الله تعالیٰ محض پخپل فضل ـ رحمت ـ شفقت او مهرباني له تاسې ځنې د تائبینو توبه قبوله کړه ـ او پر ځینو ئې شرعي حد جاري کړ ـ او پاک ئې وګرځول ـ او هغه ته ئې چه زیات خبیث ؤ یو ډول (طریقه) مهلت ورکړ او په آخرت به جزا وررسیږي.

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ۭ وَمَنْ يَّتَّبِعْ خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ فَاِنَّهٗ يَاْمُرُ بِالْفَحْشَاۗءِ وَالْمُنْكَرِ ۭ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ مَا زَكٰى مِنْكُمْ مِّنْ اَحَدٍ اَبَدًا ۙ وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ يُزَكِّيْ مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۱﴾

ای هغو کسانو چه ایمان ئې راوړی دی (یعني ای مؤمنانو!) متابعت مه کوئ د ګامونو د شیطان او هر څوک چه متابعت وکړ د ګامونو د شیطان نو بیشکه دغه شیطان امر کوی (تابع خپل ته) په فحشاء ډیرو بدو قبیحو کارونو او په

منکر نامشروعو بدو خبرو او که نه وی فضل احسان د الله پر تاسی او رحمت د ده نو نه به وئ پاک کړی له (معصیت د افک څخه الله) تاسی هیڅوک هیڅکله ولیکن الله پاکوی (په قبول د توبی سره له معاصیو) هر هغه څوک چه اراده وفرمائی (د پاکی ئی) او الله ښه آوریدونکی (د اقوالو) ښه عالم دی (په نیاتو).

**تفسیر:** یعنی د شیطان له چالونو او پلمو (تدبیرونو) څخه هوښیار اوسئ! نه ښائی چه د مسلمان کار داسی وی چه شیاطین الجن والانس سره قدم په قدم یو ځای لاړ شی - د هغو ملعونانو د تولنی مقصود خو هم دا دی چه خلقو ته د بی حیائی او رسوائی په طرف دعوت او بلنه ورکړی نو تاسی ولی په رنو سترګو عمداً د هغوی پر خبرو غولیږئ؟ وګورئ چه شیطان لږ څه تحریک او ډکه ورکړی - دومره لوی شورماشور او هنګامه پورته کوی - او ډیر سم ساده مسلمانان په اشتباه سره د هغه پر قدمونو روانیږی. حال دا چه شیطان خو د ګردو (تولو) ګمراه کول غواړی او یو تن هم نه پریږدی چه پر سمه لیاره لاړ شی - دا خو د الله تعالیٰ فضل او د ده رحمت دی چه دی د خپلو مخلصو بندګانو لاس نیونه کوی او ډیر زیات کسان ئی د شیطان له شرورو څخه محفوظ ساتی او ځینو ته وروسته له ابتلاء د توبی ایستلو توفیق ور په برخه او اصلاح کوی ئی دغه خبره د هم هغه واحد الله جل وعلا په اختیار کښی ده - او هم هغه پخپل محیط علم او کامل حکمت سره پوهیږی چه کوم یو بنده د اصلاح قابل دی؟ او د کوم یوه توبه ښائی قبوله کړه شی - الله تعالیٰ د ګردو (تولو) توبه او نور آوری - او د دوی د قلبی کیفیاتو څخه پوره واقف او باخبر دی.

وَلَا يَأْتَلِ أُولُو الْفَضْلِ مِنكُمْ وَالسَّعَةِ أَن يُؤْتُوا أُولِي الْقُرْبَىٰ وَالْمَسَاكِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۖ وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا ۗ أَلَا تُحِبُّونَ أَن يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ ۗ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٢﴾

او قسم دی نه کوی خاوندان د فضل (په دین کښی) له تاسی او (خاوندان) د فراخی (او مالداری ستاسی په دنیا کښی) په دی چه نفقه) به نه ورکوی خاوندانو د خپلوی او مسکینانو او مهاجرینو ته په لیاره د الله کښی او ښائی چه عفوه دی وکړی او ښائی چه تری تیر دی شی آیا دوست نه لرئ تاسی دا چه مغفرت وکړی الله تاسی ته (په سبب د عفوی او صفح د تاسی) او الله ښه مغفرت کوونکی (د خطیاتو) ډیر رحم والا دی (په انعام د اجر او ثواب سره).

**تفسیر:** پر حضرت صدیقی بی‌بی عائشی رضی الله تعالیٰ عنها باندی په بهتان تړونکیو کښې ځینې مسلمانان هم په ناپوهی سره شامل شوی وو چه له هغوی ځنی یو حضرت مسطح رضی الله تعالیٰ عنه ؤ چه برسیره په دی چه یو مفلس مهاجر ؤ د حضرت ابوبکر الصدیق رضی الله تعالیٰ عنه خوریی یا تروروځی هم کیده ـ او د «افک» د پیښی څخه پخوا حضرت صدیق اکبر رضی الله تعالیٰ عنه د هغه سره څه امداد او مالی مرسته (مدد) کوله ـ کله چه دغه خبره سره فیصله شوه ـ او د حضرت صدیقی بی‌بی عائشی رضی الله تعالیٰ عنها برائت د الله تعالیٰ له طرفه نازل شو ـ نو حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه قسم وکړ چه وروسته له دی نه به مسطح رضی الله تعالیٰ عنه سره هیڅ امداد او کومک ونه کړم ـ ممکن دی چه ځینو نورو اصحابو ته به هم داسی پیښی وریپیښی شوی وی نو په دغه تقریب دا آیت نازل شو ـ یعنی له تاسی ځینی هغو کسانو ته چه الله تعالیٰ دینی کرامت او مشرتوب یا دنیائی وسعت او مالداری ورکړی ده دوی ته نه ښائی چه داسی قسمونه وخوری او ښائی چه د دوی همت ډیر لوی او اخلاق ئی لوړ او عالی وی ـ نو میړانه (بهادری) او ځلمیتوب په دی کښې دی چه د بدی بدل په نیکی سره ورکړ شی.
د محتاجو خپلوانو او د الله دپاره د خپل وطن پریښودونکیو د کومک، امداد او مرستی (مدد) څخه لاس اخیستل د میړنو (بهادرانو) او مشرانو کار نه دی ـ که مو قسم خوړلی وی نو نه ښائی چه داسی قسمونه پوره کړئ ـ بلکه د هغو کفاره اداء کړئ! ـ ستاسی له شانه او اوصافو څخه داسی ښائی چه د خطا کارانو له خطاء څخه اغماض وکړئ! او تری تیر شئ که داسی وکړئ نو الله تعالیٰ به ستاسی ګرد (تول) قصور او خطاوی وبښی ـ آیا تاسی له الله تعالیٰ څخه د عفوی او د بښنی هیله (ارزو) او امید نه لرئ؟ـ او که ئی لرئ نو ښائی چه تاسی د هغه د بندګانو سره په هم دغه متوقعه صورت سره موافق معامله او تګ وکړئ! ګواکی په دغه سره د «**تخلق باخلاق الله**» تعلیم وشو.
په احادیثو کښې دی لکه چه ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه دغه آیت واورید ﴿ اَلَا تُحِبُّوْنَ اَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَكُمْ ﴾ ـ آیا دغه مو نه خوښیږی چه الله تعالیٰ مو وبښی» نو فوراً ئی وویل ـ
«**بلیٰ! یاربنااِنا نحب** ـ بیشکه ای ځمونږ پروردګاره! مونږ هرومرو (خامخا) ستا بښنه خوښوو او غواړو ئی»
دا ئی وفرمایل او د مسطح رضی الله تعالیٰ عنه هغه پخوانی کلنګ او امداد ئی بیرته جاری کړ ـ بلکه په ځینو روایاتو کښې راغلی دی چه د پخوا په نسبت ئی دوچند کړ. رضی الله تعالیٰ عنه و ارضاه.

---

اِنَّ الَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ الْمُحْصَنٰتِ الْغٰفِلٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ لُعِنُوْا فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۪ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿٢٣﴾

---

بیشکه هغه کسان چه ولي دوی (په نسبت د زناء سره) ښځې پاکې عفيفې ناخبرې (له دغو بدو) ایمان راوړونکې (په الله او رسول) لعنت کړی شوی دی په دوی باندی په دنیا کښې او په آخرت کښې او شته دوی ته عذاب ډیر لوی.

**تفسير:** په صحيحينو کښې حديث دی ـ «**اجتنبوا السبع الموبقات الشرك بالله والسحر وقتل النفس التي حرم الله الا بالحق واكل الربوا واكل مال اليتيم والتولي يوم الزحف وقذف المحصنات المؤمنات الغافلات**» له دی نه ظاهريږی چه د محصناتو قذف مطلقاً له مهلكاتو څخه دی بيا په هغه کښې ازواج مطهرات بالخصوص د ام المومنين بی‌بی عائشې صديقې رضی الله تعالیٰ عنها قذف خو ډيره لويه ګناه ده ـ علماؤ تصريح فرمايلی ده چه وروسته د دغو آياتونو له نزوله هر څوک چه بی‌بی عائشې صديقې يا له ازواج المطهرات څخه يو تن متهم کړی هغه کافر او د لوی قرآن مکذب ـ او د اسلام له دائرې څخه خارج دی ـ د طبرانی په يوه حديث کښې داسې راغلی دی «**قذف المحصنة يهدم عمل مائة سنة** پر محصنې باندی تهمت لګول د سلو کلونو عمل ورانوی» (العياذبالله)

يَّوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ اَلْسِنَتُهُمْ وَاَيْدِيْهِمْ وَاَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٢٤﴾

په هغه ورځ کښې چه شاهدی به ورکړی پر دوی باندی ژبې د دوی او لاسونه د دوی او پښې د دوی پر هغو (افعالو او اقوالو) چه ؤ دوی چه کول به ئې په دنیا کښې.

**تفسير:** يعنې مجرم به خپله خوله او ژبه سره د هغو ويل او اظهار نه غواړی مګر د ده ژبه لاسونه ـ پښې به په اذن الله په وينا راشي ـ او له هغو څخه هر عضوه به هر هغه عمل څرګندوی چه د هغو په وسيله شوی وی.

**لطيفه:** قاذف پخپله په ژبه تهمت لګولی ؤ ـ او د څلورو تنو شاهدانو مطالبه له هغه څخه شوی وه چه هغه ئې پوره نشوه کړی بالمقابل د هغه دلته د پنځو شيانو ذکر وشو ـ ژبه چه د قذف اصلی آله ده او څلور نور لاسونه او پښې چه د هغه پر شرارت باندی شاهدی لولی.

يَوْمَئِذٍ يُّوَفِّيْهِمُ اللّٰهُ دِيْنَهُمُ الْحَقَّ وَيَعْلَمُوْنَ اَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ الْمُبِيْنُ ﴿٢٥﴾

په دغه ورځ کښې به پوره ورکړی دوی ته الله جزاء د دوی هغه چه حقه لائقه وی او پوه به شي چه. بیشکه الله هم دی دی حق ثابت (په ذات او صفات خپل)

ښکاره ظاهر (په الوهیت او ربوبیت خپل).

**تفسیر:** هغه ذات چه د یوی ذری اعمال ـ حساب ـ کتاب ـ په ښکاره او واضح دول (طریقه) سره هر سړی ته په صاف صورت سره ښکاروی ـ او د هغه په دربار کښی هیڅ ظلم او تعدی نه کیږی. دغه مضمون به د قیامت په ورځ گردو (تولو) ته مکشوف او مشهودیږی.

اَلْخَبِيْثٰتُ لِلْخَبِيْثِيْنَ وَالْخَبِيْثُوْنَ لِلْخَبِيْثٰتِ ۚ وَالطَّيِّبٰتُ لِلطَّيِّبِيْنَ وَالطَّيِّبُوْنَ لِلطَّيِّبٰتِ ۚ اُولٰٓئِكَ مُبَرَّءُوْنَ مِمَّا يَقُوْلُوْنَ ؕ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ﴿۲۶﴾

ناپاکی (ښځی او خبری) دپاره د ناپاکو دی او ناپاکه (خلق) دپاره د ناپاکو (ښځو او خبرو) دی، او پاکی (ښځی او خبری) د پاکو (خلقو) دی او پاک (خلق) دپاره د پاکو (ښځو او خبرو) دی، دغه (پاکان چه ځینی له هغو اهل البیت دی) پاک (بی تعلقه بیزاره) دی له هغو خبرو چه وائی ئی (دروغجنان)، شته دوی ته مغفرت ښښنه او رزق روزی ښه (په جنت کښی).

**تفسیر:** یعنی بد کاری او چتی (بیکاره) ښځی د بد کارو او چتلو (خرابو) سړیو وړ (قابلی) او لائقی دی هم داسی یو بدکار او گنده سړی د هم دی خبری سره وړ (قابل) او لائق دی چه د هغه تعلق د هم هغه په شان چتلی (خرابی) او بدکاری ښځی سره وی ـ پاک او ستره او مطهر انسانان له ناپاکانو سره هیڅ تعلق او مطلب نه لری. ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه فرمایلی دی چه د نبی صلی الله علیه وسلم ښځه له سره بدکاره (زانیه) نه وی یعنی الله تعالیٰ د هغه د ناموس حفاظت هم فرمائی ـ نقله فی (موضح القرآن).

**تنبیه:** د آیت دغه مطلب خو د شیخ الهند د ترجمی سره سم وشو ـ مگر د اسلافو د ځینو مفسرینو څخه دغه منقول دی چه د ﴿ اَلْخَبِيْثٰتُ ﴾ او د ﴿ اَلطَّيِّبٰتُ ﴾ څخه دلته ښځی نه دی مرادی ـ بلکه اقوال او کلمات مراد دی ـ یعنی خرابی خبری خرابو خلقو سره لائقی او مناسبی دی ـ او پاکی او صافی خبری پاکو او صافو سړیو سره لازمی او مناسبی دی ـ متقی ـ پاک ـ او صاف نارینه او ښځی له داسی گنده او مردارو تهمتونو څخه پاکی وی ـ لکه چه وړاندی له ﴿ اُولٰٓئِكَ مُبَرَّءُوْنَ مِمَّا يَقُوْلُوْنَ ﴾ څخه ظاهریږی ـ یا دی داسی وویلی شی چه خرابی خبری د خرابو له خولو څخه ووځی هغه کسان چه د یوه پاک او متقی او مطهر انسان په نسبت کومه مرداره او خرابه خبره وکړی نو وپوهیږه چه هغه پخپله خبیث او مردار دی یعنی طیب او طاهر او پاک سړی له داسی خبیثو او مردارو او چتلو (خرابو) خبرو څخه بیخی پاک او مبراء دی او هسی خرابی ویناوی د خبثاؤ ـ پلیتو ـ چتلو (خرابو) او گنده کسانو کار دی.

﴿ لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴾ الآية - شته دوی ته مغفرت او رزق روزی ښه په جنت کښې)
يعنی هغوی د دوی په بدو ويلو سره نه بديږی بلکه هر کله چه دوی پر هغه صبر وکړی نو دغه څيز د هغوی د خطاؤ او تيروتلو او ښويدلو کفاره کيږی - او دلته په هره اندازه چه مفسد خلق وغواړی چه هغوی ذليل او خوار کړی - هلته به د هغه په بدل کښې دوی ته عزت او رفعت ور په برخه کيږی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَدْخُلُوا۟ بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّىٰ تَسْتَأْنِسُوا۟ وَتُسَلِّمُوا۟ عَلَىٰٓ أَهْلِهَا ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿٢٧﴾

ای هغو کسانو چه ايمان ئې راوړی دی (يعنی ای مؤمنانو) مه ننوځئ تاسی (هغو) کورونو ته چه غير وی له کورونو د تاسی تر هغه پوری چه (اجازه وغواړئ او) سره وغږيږئ (له بهره او اذن واخلئ) او سلام واچوئ پر اهل د دوی دغه (اخبار او استيذان) د تاسی خير بهتر ډير غوره دی تاسی ته (له ننوتلو د بې اجازی څخه) ښائی چه پند واخلئ تاسی (په دی سره).

**تفسير:** يعنی ماسواء د خپلی خصوصی هستوګنی له کوره د بل چا د هستوګنی په کور کښې هم داسی په خپل سر بی خبره مه ننوځئ! ولی تاسی نه يئ خبر چه هغه ستاسی د ننوتلو په وقت کښې په څه حال کښې دی؟ او څه احوال لری؟ آيا دی په دغه حال کښې د بل چا په ورتګ خوښيږی که خفه کيږی؟ لهٰذا پخوا د ننوتلو څخه ښائی ور ناری کړئ او ځان ته اجازت حاصل کړئ او له ګردو (تولو) نارو څخه بهتره «سلام» اچول دی.
په حديث کښې راغلی دی چه دری ځلی دی سلام واچوی او د ننوتلو اجازه دی وغواړی که له دری ځلی سلام اچولو سره هم اجازه ور نه کړه شی - نو بيرته دی وګرځی.
فی‌الحقيقت دغه داسی ډک له حکمته تعليم دی که د هغه په تعميل کښې مؤاظبت وکړ شی - نو دغه د ميلمه او کوربه دواړو په حق کښې ښه او بهتر دی.
مګر افسوس نن مسلمانان په دغو مفيدو هداياتو پسی چندان نه ګرځی ولی نور ملل او اقوام هم دغه اصول او آداب له مونږ څخه اخيستی هغه ته ئې ډيره ترقی او توسعه ورکړی ده.
(ربط) د دی سورت له ابتداء څخه تر دی ځايه پوری د زناء او د قذف د احکامو بيان ؤ - لکه چه ډير ځله بی له اجازی د بل په کور کښې ننوتل - د هم دغو ممنوعهؤ امورو په طرف مفضی کيدل نو ځکه په دغو آياتونو کښې ئې د استيذان د مسائلو بيان هم وفرمايه.

فَإِن لَّمْ تَجِدُوا فِيهَا أَحَدًا فَلَا تَدْخُلُوهَا حَتَّىٰ يُؤْذَنَ لَكُمْ ۖ وَإِن قِيلَ لَكُمُ ارْجِعُوا فَارْجِعُوا ۖ هُوَ أَزْكَىٰ لَكُمْ ۚ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿٢٨﴾

پس که چیری ونه مومئ تاسی په دی کورونو کښی څوک (چه اذن درکړی) پس مه ننه وځئ په دی کورونو کښی تر هغه پوری چه اذن وکړی شی تاسی ته، او که چیری وویل شی تاسی ته (عندالاستیذان) چه بیرته وګرځئ پس بیرته وګرځئ تاسی (او د ننوتلو سعی مه کوئ) چه دغه بیرته ګرځیدل ډیر غوره (او پاک) دی تاسی ته او الله په هغو کارونو چه کوئ ئی تاسی ښه عالم دی (او جزا ئی درکوی).

**تفسیر:** یعنی کله چه دغه درمعلوم شی چه په هغه کور کښی هیڅوک نشته خو بیا هم د بل چا په کور کښی بی د هغه د مالک او مختار له اجازی مه ننوځئ! ځکه چه د بل په ملکیت کښی بی له اجازی بل هیڅوک د تصرف حق نه لری. تاسی ته نه دی معلوم چه د بی اجازی ننوتلو څخه به څومره جګړی پیښیږی؟ هو! که صراحتاً یا دلالتاً اجازت درکړ شی نو بیا هیڅ مضائقه نشته او که چیری وویل شی تاسی ته عندالاستیذان چه بیرته وګرځئ پس بیرته وګرځئ تاسی او د ننوتلو سعی مه کوئ! یعنی د داسی ویلو څخه مه خفه کیږئ! ځکه چه ډیر اوقات انسانی طبیعت دی ته نه وی مائل چه له چا سره وګوری ـ یا به د بل چا له ملاقاته په دغه وقت کښی حرج وریښیږی په داسی یوه خبره او کار مشغول وی چه په دغه نه خوښیږی چه بل څوک پری مطلع شی ـ نو تاسی ته څه ضرورت درپیښ دی چه خامخا به پر هغه بار اچوئ! حال دا چه په دغه شان تکلیف او زحمت اړولو سره عموماً د دوستی او خپلوی تعلقات ورانیږی. په هر حال دغه کار چه بیرته وګرځئ تاسی او د ننوتلو سعی او اصرار مه کوئ دغه بیرته ګرځیدل خیر بهتر او ډیر غوره پاک دی تاسی ته او الله تعالیٰ په هغو کارونو چه کوئ تاسی ښه عالم دی او جزاء ئی درکوی یعنی الله تعالیٰ له ګردو (ټولو) قلبیه‌ؤ او قالبیه‌ؤ اعمالو څخه ښه باخبر دی. څرنګه شی چه کوئ او په هر نیت ئی چه وکړئ حق تعالیٰ به سم د هغه د تناسب سره جزاء درکوی ـ او ده په خپل محیط علم کښی د ګردو (ټولو) امورو رعایت فرمایلی، دغه احکام ئی صادر کړی دی.

لَّيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ مَسْكُونَةٍ فِيهَا مَتَاعٌ لَّكُمْ ۚ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا تَكْتُمُونَ ﴿٢٩﴾

نشته پر تاسی باندی هیڅ ګناه په دی کښی چه ننوځئ (بی له استیذانه) هغو کورونو ته چه نه دی د چا د اوسیدنی په هغه کښی متاع منفعت د تاسی وی او الله ته ښه معلوم دی هغه چه ښکاره کوئ ئی تاسی او هغه چه پټوئ تاسی.

**تفسیر:** یعنی په هغو عمارتونو کښی چه کوم خاص او معلوم داره سری هستوګنه نه لری او نه د هغه په ننوتلو او راوتلو کښی څه ممانعت او قیود وی - مثلاً مسجد - مدرسه خانقاه - سرای او مثل ذلک - که هلته مو کوم شی وی - یا په هغه ځای کښی د څه موعد دپاره اوسیدل غواړئ نو البته هلته پخپل سر تللی او ننوتلی شئ او دلته هیڅ د استیذان ضرورت نشته. د داسی مسائلو تفصیلات ښائی چه په فقهیه‌ؤ کتابونو کښی وکتل شی. او الله تعالیٰ ته معلوم دی هر هغه څه چه ښکاره کوئ ئی تاسی او هر هغه څه چه پټوی ئی تاسی یعنی الله تعالیٰ ستاسی د ګردو (تولو) پټو او ښکارؤ حالاتو په رعایت دغه احکام مشروع کړی دی چه له هغو څخه مقصود د فتنی او فساد ګرد (تول) مداخل بندول دی. مؤمن ته ښائی چه په خپل زړه کښی هم دغه غرض تر نظر لاندی ونیسی او پری عمل وکړی.

قُلْ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ يَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوْا فُرُوْجَهُمْ ذٰلِكَ اَزْكٰى لَهُمْ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌ بِمَا يَصْنَعُوْنَ ﴿٣٠﴾

ووایه (ای محمده!) مؤمنانو ته چه پټی دی کړی دوی سترګی خپلی (له نامحرمو څخه) او ښه ټینګ دی وساتی دوی فرجونه سترونه خپل (د محرماتو په مقابل کښی) دغه (اغماض او حفظ) ډیر پاکیزه (او ګتور) دی دوی ته بیشکه چه الله ښه خبردار دی په هغو کارونو چه کوی ئی (دوی نو ښائی چه تری په ویره اوسی پر هر حرکت او په سکون خپل)

**تفسیر:** بده کتنه د زناء اول قدم دی - له دی نه د لویو لویو فواحشو دروازی پرانستلی کیږی قرآن عظیم عموماً د بدکاری او بی حیائی د انسداد دپاره ړومبی د هم دغه سوری د بندولو توصیه کوی - یعنی مسلمان نارینه او ښځی ته حکم ورکړی دی چه د بدو کتلو څخه ځان ساتی! او خپل شهوات پخپل واک (اختیار) او اداره کښی ولری! که یو ځلی بی اراده او ناڅاپه د کوم نارینه نظر پر کومی پردی ښځی ولوید - یا د ښځی سترګی پر کوم پردی نارینه ولګیدی نو بیا دی بالاراده او قصداً د هغه پر لوری خپلی سترګی نه اړوی! ځکه چه دغه دوهم ځلی لیدل به د

ده په واک (اختیار) کښې وی ـ او په هغه کښې به معذور نه ګڼل کیږی.
که انسان ځان په دی سره عادی کړی چه خپلو پښو ته وګوری او په خپل اختیار او اراده سره د ناجائزو امورو په طرف ونه ګوری نو ډیر ژر د ده د نفس تزکیه کیدی شی ـ کله چه اول ځلی ناڅاپه کوم اتفاقی نظر لویږی د شهوت او نفسانی غوښتنی له سببه نه وی نو ځکه حدیث هغه معاف کړی دی ښائی چه دلته په ﴿ مِنۡ أَبۡصَٰرِهِمۡ ﴾ کښې هم «من» ئې تبعیضه اخیستی هم دغه طرف ته ئې اشاره فرمایلی وی. (او ښه تینګ دی وساتی دوی فرجونه سترونه خپل د محرماتو په مقابل کښې) یعنی له حرام کاری څخه خپل ځانونه وساتی! او خپل ستر او پرده دی د هیچا په مخ کښې نه خلاصوی **«الاعند من اباحه الشارع من الازواج وماملکت ایمانهم»** (دغه اغماض او حفظ ډیر پاکیزه او ګټور دی دوی ته په دنیا او په عقبا کښې بیشکه چه الله تعالیٰ ښه خبردار دی په هغو کارونو چه کوی ئې او په هغه نظر چه کوی ئې په حلال او حرام او هم داسی په استعمال د جوارحو په طاعاتو او په معاصیو) یعنی د سترګو غلا ـ او د زړونو پټی خبری او مخفیه‌ؤ نیاتو ـ احوالو ـ ټول الله تعالیٰ ته معلوم دی ـ لهٰذا انسان ته ښائی چه تل دغه علام الغیوب حاضر او ناظر وګڼی ـ او له بدو افعالو ـ او بدو خیالاتو او بدو کتلو او له هر قسمه بدو چارو څخه ځان وساتی ـ که نه هغه به ئې سم له خپله علمه سره په سزا رسوی **«مایصنعون»** څخه غالباً د جاهلیت د زمانی بی‌اعتدالی‌ګانی مراد اخیستی دی ـ یعنی هغه بی اعتدالی‌ګانی چه پخوا له دی نه مو کولی هغه ټولی الله تعالیٰ ته معلومی دی نو ځکه هغه اوس د خپل رسول په وسیله دغه احکام صادر کړی دی چه ستاسی تزکیه پری وشی.

---

وَقُل لِّلۡمُؤۡمِنَٰتِ يَغۡضُضۡنَ مِنۡ أَبۡصَٰرِهِنَّ وَيَحۡفَظۡنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبۡدِينَ
زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنۡهَاۖ وَلۡيَضۡرِبۡنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّۖ وَلَا
يُبۡدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوۡ ءَابَآئِهِنَّ أَوۡ ءَابَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوۡ
أَبۡنَآئِهِنَّ أَوۡ أَبۡنَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوۡ إِخۡوَٰنِهِنَّ أَوۡ بَنِيٓ إِخۡوَٰنِهِنَّ أَوۡ
بَنِيٓ أَخَوَٰتِهِنَّ أَوۡ نِسَآئِهِنَّ أَوۡ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُنَّ أَوِ ٱلتَّٰبِعِينَ غَيۡرِ
أُوْلِي ٱلۡإِرۡبَةِ مِنَ ٱلرِّجَالِ أَوِ ٱلطِّفۡلِ ٱلَّذِينَ لَمۡ يَظۡهَرُواْ عَلَىٰ
عَوۡرَٰتِ ٱلنِّسَآءِۖ وَلَا يَضۡرِبۡنَ بِأَرۡجُلِهِنَّ لِيُعۡلَمَ مَا يُخۡفِينَ مِن

زِيۡنَتِهِنَّ ؕ وَتُوۡبُوۡۤا اِلَى اللّٰهِ جَمِيۡعًا اَيُّهَ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُوۡنَ ﴿۳۱﴾

او ووايه (اى محمده) ايماندارو ښځو ته چه پټى دى كړى له (نامحرمو څخه) سترګى خپلى او ښه تينګ دى وساتى فرجونه سترونه خپل (د محرماتو په مقابل كښى) او نه دى ښكاره‌وى زينت ښايست (او ځاى د ښايست) خپل مګر هغه چه ښكاريږى له دغه (زينت څخه په وقت د كسب او كار كښى) او ښائى چه وا دى چوى تكرى پوړنى خپل پر ګريوانونو خپلو (چه تتر ئى ښكاره نشى) او نه دى ښكاره‌وى زينت ښايست (او ځاى د ښائست) خپل (هيچا ته) مګر دپاره د ميړونو(خاوندانو) خپلو (چه دغه د هغو دى) يا پلرونو (او نيكونو) خپلو، يا پلرونو د ميړونو (خاوندانو) خپلو ته يا ځامنو (او لمسيو) خپلو ته يا ځامنو د ميړونو (خاوندانو) خپلو ته يا ورونو خپلو ته يا ځامنو د ورونو خپلو ته يا ځامنو د خويندو خپلو ته يا ښځو خپلو ته يا هغه چاته چه مالك شوى دى (د هغه) ښى لاسونه د دوى يا هغو تابعانو ته چه نه وى خاوندان د حاجت ښځو ته له سړيو نه يا هلكانو هغو ته چه نه وى خبر (دوى) پر اسرارو د ښځو او نه دى وهى (دا ښځى) پښى خپلى دپاره د دى چه معلوم كړ شى هغه څيز چه پټوى ئى دوى له زينت ښائست (ګانى) خپلى او راجع شئ توبه وباسى تاسى الله ته ټول اى مؤمنانو! دپاره د دى چه تاسى ښيګنه او خلاصى ومومئ (په دارينو كښى).

**تفسير:** ښائست او سينګار عرفاً خارجى او كسبى آرائش ته وائى چه هغه له لباس يا زيور او نورو شيانو څخه حاصليږى ـ د دى احقر په نزد دلته د زينت ترجمه د سنګار په ځاى كه په زيبائش سره وكړه شى ـ نو زيات جامع او مناسب واقع كيږى ځكه چه د زيبائش (ښائست) لفظ هر قسم خلقى او كسبى زينت ته شامل دى ـ اعم له دى چه هغه د جسم خلقى پيدايښت سره متعلق وى يا له پوښاك او نورو خارجى ډول و ډيل څخه حاصل شوى وى ـ د مطلب خلاصه داسى شوه ښځو ته د خپل هيڅ قسم خلقى يا كسبى ښائست اظهار پرته (علاوه) له خپلو هغو محارمو څخه چه ئى ذكر وروسته راځى د بل هيچا په مخ كښى جائز نه دى. هو! د هومره اندازى ښائست ظهور چه ضرورى دى ـ او د هغه ستر او اخفاء په سبب د عدم قدرت يا ضرورت نشى ممكن كيدى نو مجبوراً يا ضرورتاً د هغه په اظهار كښى دومره مضائقه نشته (مشروط په دى چه د فتنى خوف نه وى)

له احاديثو او آثارو څخه ثابتيږي چه مخ كفين (ورغوى) په ﴿ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا ﴾ كښي داخل دي ځكه چه ډير ديني او دنيوى ضروريات د هغو په اظهار دوى مجبوروي ـ كه د هغوى د استتار حكم مطلقاً وركړ شي نو ښځو ته به كاروبار كښي سخت ربړونه (زحمتونه) او تكاليف وروړاندى كيږي. برسيره په دى فقهاؤ قدمين (تلى) هم پر هم دغو قياس كړى دى. لكه چه دغه اعضا مستثنىٰ شول نو د هغو متعلقات مثلاً ګوتمي ـ ګوتكي ـ نكريځي ـ رانجه ـ او نور هم ښائى په استثناء كښي داخل ومنلى شي ليكن واضح دى وى چه په ﴿ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا ﴾ سره صرف ښځو ته د عندالضرورت د هغو اعضاؤ په اظهار كښي اجازه وركړى شوى ده ـ نامحرمو سړيو ته له سره اجازه نشته چه دوى دى خامخا دغو ښځو ته وګوري ـ يا له هغوى سره سترګى په سترګو شي يا د دوى د اعضاؤ سيل وكړى ـ ښائى د دغه اجازى څخه پخوا د هم دى لامله (له وجى) الله تعالىٰ مؤمنانو ته د غض البصر او د سترګو د پټولو حكم اوروليى وى معلوم شو چه د يوه خوا د كوم عضوى د اظهار اجازه دغه نه لازمه وى چه بل طرف ته د هغه كتل هم جائز وى ـ نارينه چه په ستر له سره مأمور نه دى مګر د پاس آيات په اساس د ښځو له نظره مستور دى ـ يعني ښځى لدينه ممنوع دى چه نارينهؤ ته وګورى. ښائى چه په ياد ئى ولرو چه په دغه آيت كښي محض د ستر د مسئلى بيان شوى دى يعني له دى نه قطع نظر چه ښځه په كور كښي وى كه د باندى؟ د ښځى د بدن كومه برخه د چا په مخ كښي او په كومو حالاتو كښي ښكارول جائز دى؟ پاتى شوه د «حجاب» مسئله ـ يعني شريعت په كومو حالاتو كښي ښځو ته له كور څخه د باندى وتلو اجازه وركړى ده؟ او د سير او د سياحت صلاحيت حكم دوى ته شته؟ كه نه؟ دلته د هغه د تذكر ځاى نشته د هغه څه تفصيل ان شاء الله د «احزاب» په سورت كښي راځي. مونږ چه د فتنى د خوف د نفى كوم شرط لګولى دى هغه د نورو دلائلو او شرعيهؤ قواعدو څخه مأخوذ دى چه په اول تأمل او مراجعت له نصوصو څخه موندلى كيږي. د بدن په خلقي ښائست كښي له ګردو (تولو) څخه ډير ښكاره شي د تى اوچتوالى دى، د هغه د مزيد تستر دپاره ئى په خاص دول (طريقه) سره تاكيد وفرمايه ـ او د جاهليت د رسم د امحاء طريقه ئى هم راوښوده. په جاهليت كښي به ښځو تكرى (څادرونه) پخپل سر اچول او د هغه دواړه څندى (غاړى) به ئى بيرته پخپلى شا غورځولى ـ او په دى ډوله د تى هيئت به څرګند پاتى كيده دغه ګواكى د ښائست يوه مظاهره وه. لوى قرآن دغه راوښوده چه ښائى تكرئ (څادر) په سر واچولى شي او د هغه څندى (غاړى) دى تر زنى لاندى تيرى شي څو د ښځو غاړه او تى او غوږونه پرى په ښه ډول (طريقه) پټ شي.

﴿ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ ﴾ الآية ـ او نه د ښكاروى ښځى زينت خپل هيڅچا ته مګر دپاره د ميړونو (خاوندانو) خپلو چه دغه د هغوى دى يا پلرونو او نيكونو خپلو يا پلرونو د ميړونو (خاوندانو) خپلو ته يا ځامنو او لمسيو خپلو ته د تره او ماما حكم هم داسى دى ـ په دغو محارمو كښي هم د مراتبو فرق شته مثلاً هغه زينت او ښائست چه دا ئى د خپل ميړه (خاوند) په مخ كښي ظاهرولى شي هغه د نورو محرمو په مخ كښي نشي څرګندولى ـ د زينت څرګندول څو درجى لرى

چه د هغه تفاصيل په لويو تفاسيرو او په فقهيه ؤ کتابونو کښې ښائی ولوست شی. دلته يواځی هم دغومره ښوونه شوی ده. هومره د تستر اهتمام چه له پرديو شخه کاوه شی له محارمو شخه نه کيږی. او داسی مطلب نه دی چه هر يو عضو دی د دوی په مخ کښې بربند او ښکارولی شی.

﴿ اَوْ نِسَآئِهِنَّ ﴾ ـ او نه ښکاروی ښځی زينت خپل هيچا ته مگر ښځو خپلو ته) يعنی هغی ښځی ته چه د دی سره ناسته ولاړه لری ـ په دی شرط سره چه ښه اخلاق ولری ـ او د بد اخلاقو ښځو په مخ کښې نه. او د ډيرو اسلافو په نزد له دی نه مسلمانی اصيلی ښځی مرادی دی. ځکه چه کافره ښځه د اجنبی سری حکم لری.

﴿ اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُنَّ ﴾ ـ او نه ښکاروی ښځی زينت خپل هيچا ته مگر هغه چاته چه مالک شوی وی د هغه ښی لاسونه د دوی). يعنی ستاسی وينځی وی او د ځينو اسلافو په نزد مملوک مريی هم په دی کښې داخل دی او د قرآن ظاهر هم د هغه تائيد کوی ليکن د جمهورو ائمه ؤ او اسلافو مذهب داسی نه دی.

﴿ اَوِ التّٰبِعِيْنَ غَيْرِ اُولِي الْاِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ ﴾ ـ او نه ښکاروی ښځی زينت خپل هيچا ته مگر هغو تابعينو ته چه نه وی خاوندان د حاجت ښځو ته له سريو) يعنی نوکر او هغه خدمتگار چه له خپله کار سره کار لری او له سره دی وزگار نه وی چه دی خوا او هغی خوا ته وگوری ـ او پخپل چاړو جوړو او دوډی پخولو او نورو کورنيو چارو کښې بوخت او لگيا وی شوخ ـ شغب ـ سپين سترگی او ارمونی نه وی يا داسی فاترالعقل ـ بی سد ـ پاگل وی چه حواس ئی په خپل ځای نه وی پاتی او محض په خوړلو او څښلو کښې له کورنی سره شريک او مل وی.

(او نه د ښکاروی ښځی زينت خپل هيچا ته مگر هغو هلکانو ته چه خبر نه وی دوی پر اسرارو د ښځو) يعنی هغه هلکان چه تراوسه پوری دوی له نسوانی سرائرو شخه لا نه دی خبر او د هغو د پوهيدلو تميز يی لا نه دی پيدا کړی او نه نفسانی جذبات لری.

﴿ وَلَا يَضْرِبْنَ ﴾ ـ او نه دی وهی دا ښځی پښی خپلی لپاره د دی چه معلوم کړ شی هغه څيز چه پټه وی ئی دوی له زينت خپل يعنی ښائی چه د دوی هيئت او وضعيت ـ ناسته ولاړه داسی نه وی چه د گانو (کالو) او زيوراتو غږ د پرديو توجه او ميلان ځان ته ورکش کړی او دير ځلی داسی غږ او حرکات او سکنات د مخ او نورو د ليدلو شخه زيات د نفسانی جذباتو داعی او محرک واقع کيدی شی.

﴿ وَتُوْبُوْٓا اِلَى اللّٰهِ جَمِيْعًا ﴾ ـ او راجع شیٔ توبه وباسیٔ تاسی الله ته تول ای مؤمنانو لپاره د دی چه تاسی ښيگنه (فلاح) او خلاصی ومومئ په دارينو کښې يعنی پخوا له دی نه هر څه حرکات چه شوی دی له هغو شخه توبه وباسیٔ! وروسته له دی نه هر نارينه او ښځی ته لازم دی چه د الله تعالیٰ شخه وويريږی او پخپلو گردو (تولو) حرکاتو او سکناتو ـ اوضاعو او افعالو ـ اقوالو کښې د انابت او تقویٰ لپاره غوره کړی چه په دغه کښې د دواړو دارينو ښيگنه (فائده) او بری او کاميابی دی.

وَأَنكِحُوا الْأَيَامَىٰ مِنكُمْ

او په نکاح کوئ (ای اولیاؤ) هغه بی میرونو (خاوندانو) ښځی او بی ښځو سړی له تاسی

**تفسیر:** پاس د استیذان ـ غض البصر ـ ستر او نورو بیان وشو څو د هغو په وسیله د بی حیائی او بدکاری ـ انسداد او مخه ونیوله شی په دغه آیت کښی دا حکم ورکوی چه د هغو کسانو نکاح چه تراوسه نه ده ترلی شوی ـ یا وروسته د نکاح ترلو څخه بیرته کونډ شوی وی نو په مناسبه موقع کښی دی بیا د هغوی نکاح سره وترله شی! په حدیث کښی نبی علیه افضل الصلوٰة والتسلیم فرمایلی دی «ای علی! په دری کارونو کښی ځنډ (ایسارتیا) مه کوه! د فرض لمانځه وقت چه راشی جنازه چه حاضره شی ـ او کونډه ښځه چه کله ئی سیال پیدا شی.»
هغه اشخاص او اقوام چه عمداً د خپلو کونډو او رنډو په نکاح کښی تکاسل تساهل، او تعطیل کوی یا د داسی خبرو د آوریدلو څخه بد وړی ښه دی وپوهیږی چه هغوی پخپل دغه وضعیت کښی گناهگاران دی او ښائی چه ژر تر ژره دی توبه وباسی او د هغوی په نکاح کښی دی تلوار او مسارعت وکړی.

وَالصَّٰلِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ

او صالحان نیکان له مریو خپلو او له وینځو خپلو

**تفسیر:** یعنی که مریی او وینځی د دغی خبری وړ (قابل) او لایق وگڼی چه د زوجیت حقوق اداء کولی شی او د نکاح کولو لامله (له وجی) نه مغروریږی او ستاسی له کار او خدمت څخه لاس نه وباسی نو د دوی نکاح هم وتړئ!.

إِن يَكُونُوا فُقَرَاءَ يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ۳۲

که چیری وی (دغه مذکورین) فقیران ناداران نو غنیان به کړی دوی الله له فضله خپله او الله کشائش والا ښه عالم دی.

**تفسیر:** ځینی خلق د دی لامله (له وجی) متردد وی او ویراندی وروسته کوی چه وروسته له نکاح به د ښځی او د وړو بار څوک په خپلو اوږو اخلی؟ دلته الله تعالیٰ دوی پوهولی دی چه د هسی موهومو خطراتو لامله (له وجی) تاسی د نکاح څخه مه په ځنگ کیږئ! ستاسی او ستاسی د ښځو

د ووړکیو رزق روزی د الله تعالیٰ په قدرت کښې ده ـ تاسو ته دغه خبره نه ده معلومه. چه د هغوی له قسمته الله تعالیٰ ستاسی په رزق او روزی کښې څه ارتوالی او کشائش پیدا کړی. نه مجرد کونډ (لونډ) پاتی کیدل د غناء موجب دی او نه له نکاح ترلو سره فقر او افلاس مستلزم دی. دغه ګردی (تولی) خبری د الله په اراده او مشیت پوری ترلی دی. لکه چه د «التوبه» په (٤) رکوع کښې ئی داسی فرمایلی دی ﴿ وَ إِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً فَسَوْفَ يُغْنِيكُمُ اللهُ مِنْ فَضْلِهِ إِنْ شَاءَ ﴾

او د ظاهری اسباب په اعتبار هم دغه څیز معقول دی چه د نکاح کولو یا د نکاح د ارادی لرلو په وسیله پر انسان بار لوېږی او دی د تجرد د زمانی څخه په زیاتی ګټی (فائدی) پسی ګرځی او خپلی فائدی پسی هڅه کوی او سره له سعی او عمل او جد او جهد لاس او پښی خوځوی د بله طرفه کله چه سړی د ښځی څیښتن(خاوند) شی نو د ده ښځه او وروسته اولاد هم د ده سره د ژوندانه په چارو کښې مرستی (مدد) کوی ـ او برسیره په دی د خسرګنيځ د کورنی مرسته (مدد) او امداد هم ورسره ملګری کیږی. په هر حال د روزی تنګی یا فراخی په نکاح او تجرد پوری له سره نه ده موقوفه بیا نو نه ښایی چه دغه خیال د نکاح سد او مانع وګرځی. او الله تعالیٰ کشائش والا ښه عالم دی یعنی د هر چا په حق کښې چه مناسب وګڼی نو د هغه په روزی کښې وسعت او ارتوالی کوی.

وَلْيَسْتَعْفِفِ الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا حَتَّىٰ يُغْنِيَهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ ۗ

او ښائی چه ځان دی وساتی هغه کسان چه نه مومی دوی (سامان اسباب د) نکاح تر هغه پوری چه غنیان کړی دوی الله له فضله خپله

**تفسیر:** یعنی هغه چه اوس دومره مقدور هم نه لری چه له کومی ښځی سره خپله نکاح وترلی شی نو تر هغه پوری چه الله تعالیٰ ده ته مقدور ورکړی ښائی چه د خپل نفس اداره ښه وکړی ـ او تر انضباط لاندی ئی راولی ـ او زیار (کوشش) وکړی چه عفیف پاتی شی. دغه خبره هیڅ بعیده نه ده چه د هم هغه عفت او ضبط النفس په برکت دی الله تعالیٰ غنی وګرځوی او د نکاح ډیر ښه مواقع ورمهیاء کړی.

وَالَّذِينَ يَبْتَغُونَ الْكِتَابَ مِمَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ فَكَاتِبُوهُمْ إِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ خَيْرًا ۖ وَآتُوهُم مِّن مَّالِ اللَّهِ الَّذِي آتَاكُمْ ۚ وَلَا تُكْرِهُوا فَتَيَاتِكُمْ عَلَى الْبِغَاءِ إِنْ أَرَدْنَ تَحَصُّنًا لِّتَبْتَغُوا عَرَضَ الْحَيَاةِ

الدُّنۡيَا ۚ وَمَنۡ يُّكۡرِهۡهُّنَّ فَاِنَّ اللّٰهَ مِنۡۢ بَعۡدِ اِكۡرَاهِهِنَّ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ۝

او هغه کسان چه غواړی مکاتب والی له هغو (وينځو مريو) چه مالکان شوی دی د هغو ښی لاسونه ستاسی نو مکاتبان کړئ دوی که چيری پيژانده تاسی په دوی کښی خير او ورکوئ دوی ته له ځينو مالونو د الله هغه چه درکړی ئی دی تاسی ته، او مه مجبوروئ تاسی وينځی خپلی په زناء (او بدو کارونو) که چيری اراده لری دوی د ځان پاک ساتلو دپاره د دی چه طلب کوئ تاسی (په دغه اکراه سره) مال د ژوندون لږ خسيس (چه هغه باړه د زنا او ورکړی دی) او هر هغه چه زور ئی وکړ په دوی پس بيشکه الله وروسته له زور د مالکانو پر دوی ډير بښونکی ښه رحم والا دی.

**تفسير:** يعنی که د چا مريی او وينځی ووائی يا د زيات توثيق دپاره خپله دغه وينا وليکی چه «زه به په دومره مدت کښی دومره مال درته وګټم او در به ئی کړم څو ته می آزاد او خپلواک کړی» نو مالک ته لازم دی چه دغه ومنی او داسی يو تعهد ليک وروليکی دغسی معاملی ته مکاتبه وائی او دغه د مريو د آزادولو يو ځان ته صورت دی ليکن مالکانو ته ښائی چه دغه خبره هلته قبوله کړی چه دی په واقعی دول (طريقه) سره وپوهيږی چه آزادی د دغه مريی يا وينځی دپاره ښه ده ـ او وروسته د رقيت د قيد د وتلو څخه غلا ـ يا زناء ـ يا د نورو بدو افعالو نه مرتکب کيږی ـ او خوشی چتی (بيکاره) او چپوله (فضول) هر چيری نه ګرځی ـ که دغسی دادينه (سکون) او اطمينان ورته پيدا شی نو بيشکه ښائی چه ده ته د آزادی موقع ورکړه شی څو دی آزاد شی او د خپلی فلاح او بهبودی دپاره ښه ترقی او پرمخ تګ وکړی شی ـ که چيری خپله نکاح تړی نو په خپل واک (اختيار) دی وتړی او د رقيت لامله (له وجی) دی ميدان پری تنګ نه وی.

﴿ وَاٰتُوۡهُمۡ مِّنۡ مَّالِ اللّٰهِ ﴾ ـ او ورکوئ دوی ته له ځينو مالونو د الله هغه چه درکړی ئی دی تاسی ته) دغه ئی دولتمنو اغنياؤ مسلمانانو ته فرمايلی دی چه د داسی مکاتبانو مريو يا وينځو سره مالی امداد وکړئ چه د زکوٰة له وجوهو څخه وی که د نورو عامو صدقاتو او خيراتونو او نورو څخه وی څو دوی ژر تر ژره د خپلو آزاديو او خپلواکيو مالکان شی او که مالک د کتابت د بدل کومه برخه ورمعافه کړی نو دغه به ډير لوی امداد وی.

**تنبيه:** د زکوٰة په مصارفو کښی يو مصرف چه د ﴿ فِی الرِّقَابِ ﴾ په نامه ايښی شوی دی هغه د هم دغو مريانو او د وينځو د آزادلو پنګه ده د راشده‌ؤ خلفاؤ په زمانه کښی له داسی مريانو سره له بيت المال څخه امداد او مرستی (مدد) کيدلی.

﴿ وَلَا تُكۡرِهُوۡا فَتَيٰتِكُمۡ ﴾ الآية ـ او مه مجبوروئ تاسی وينځی خپلی په زناء او بدو کارونو که چيری اراده لری دوی د ځان پاک ساتلو دپاره د دی چه طلب کوئ تاسی په دغه اکراه سره مال

د ژوندون لږ خسیس.) په جاهلیت کښې به ځینو خلقو پر خپلو وینځو د زنا او بدکارۍ کسب کاوه له عبد الله بن ابی رئیس‌المنافقین سره څو داسې وینځې وې چه پر هغو به ئې د هم دغې زنا او بدکارۍ کسب کاوه ـ او په دغه وسیله به یې روپۍ ګټلې چه له دوی څخه ځینې ځینې وینځې مسلمانانې شوې او د دغه شنیع فعل د کولو څخه ئې انکار وکړ ـ نو ځکه هغه ملعون د دوی په وهلو او تکولو لاس پورې کړ ـ دغه آیت په هم دغه مورد کښې نازل شو ـ او د دغه شان نزول د رعایت د مزید تقبیح دپاره ئې د ﴿ إِنْ أَرَدْنَ تَحَصُّنًا ﴾ او د ﴿ لِتَبْتَغُوا عَرَضَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ﴾ قیود زیات کړل که نه پر وینځو باندې د بدکارۍ اجراء په هر حال حرامه ده او دغسې ګته (فائده) چه په دغه وسیله په لاس راځي په هر اسم او رسم چه وي بیخي حرامه او ناپاکه ده اعم له دې چه دغه بدکاري دوی په خپله رضاء او رغبت سره وکړي یا محض د دغې دنیوي حقیرې فائدې دپاره په جبر او اکراه سره پر دوی اجراء کیږي نو په دغه وروستني صورت کښې د هغه ګناه او وبال شدید او انتهائي وقاحت لري او د لوئې بې شرمۍ دلیل دی.
یعنې زنا داسې بد عمل دی چه د جبر او اکراه څخه وروسته هم بد او خراب وي ـ لیکن الله تعالیٰ محض په خپل فضل او رحمت سره د مکرهه بیچاره‌ګۍ او ناتوانۍ ته کتلې ـ عفو کوي ئې او په هر صورت پر مکره (په زور کوونکي) باندې به سخت عذاب وي او پر مکرهه (چه پرې زور شوې وي) رحم به وکړ شي.

---

وَلَقَدْ أَنزَلْنَا إِلَيْكُمْ آيَاتٍ مُّبَيِّنَاتٍ وَمَثَلًا مِّنَ الَّذِينَ خَلَوْا مِن قَبْلِكُمْ وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٣٤﴾

---

او خامخا په تحقیق نازل کړې دي مونږ تاسو ته آیتونه ښکاره کوونکي (د حلالو او د حرامو د حدودو او د احکامو) او مثل (عجیب چه د عجیبه قسمه ؤ امثله دي) د هغو کسانو چه تیر شوي دي پخوا له تاسې او نازل کړې دي مونږ موعظه پند دپاره د متقیانو پرهیزګارانو.

---

**تفسیر:** یعنې په قرآن کښې ګرد (تول) نصائح ـ احکام او د تیرو اقوامو عبرتناکه واقعات بیان شوي دي څو د پاک الله څخه ویریدونکي انسانان هغه واوري او ترې پند او نصیحت او عبرت واخلي او خپل انجام او عاقبت ته فکر وکړي. یا مثلاً له ﴿ مِّنَ الَّذِينَ خَلَوْا ﴾ څخه دغه مراد دی چه پر پخوانیو امتونو هم داسې حدود او احکام جاري کړې شوي وو چه په دغه سورت کښې مذکور دي او ځینې پیښې هم د هم دغه (افک) د پیښې په شان وروړاندې شوي دي چه په دغه سورت کښې بیان کړې شوي دي پس هم هغه شان چه الله تعالیٰ د حضرت مریمې صدیقې رضی الله تعالیٰ عنها او حضرت یوسف صدیق علیه السلام د دښمنانو بهتان باطل او د دوی برائت ئې

ظاهر کړ د حضرت بی‌بی عایشی صدیقی بنت الصدیق رضی الله تعالیٰ عنهما برائت او لوئی ئی هم ښکاره کړه ـ چه تر قیام د قیامت پوری د صادقینو او صالحینو په زړونو کښې یی نقش‌فی‌الحجر کړ ـ او د دروغجنانو دښمنانو مخونه ئی تور کړل.

اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ مَثَلُ نُوْرِهٖ كَمِشْكٰوةٍ فِيْهَا مِصْبَاحٌ ؕ اَلْمِصْبَاحُ فِيْ زُجَاجَةٍ ؕ اَلزُّجَاجَةُ كَاَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ يُّوْقَدُ مِنْ شَجَرَةٍ مُّبٰرَكَةٍ زَيْتُوْنَةٍ لَّا شَرْقِيَّةٍ وَّلَا غَرْبِيَّةٍ ۙ يَّكَادُ زَيْتُهَا يُضِيْٓءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ ؕ نُوْرٌ عَلٰى نُوْرٍ ؕ يَهْدِى اللّٰهُ لِنُوْرِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَيَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ لِلنَّاسِ ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۙ﴿۳۵﴾

الله (مالک د) نور د آسمانونو او ځمکی دی مثل صفت د نور د ده (داسی دی) لکه (رونه) طاقچه چه په هغی کښې یوه بله ډیوه وی دغه بله ډیوه په قندیل د (شیشه) کښې وی، دغه قندیل (ښیښه په سبب د هغی رڼا (رڼرا) چه پکښې ده) ګواکی یو ستوری دی روڼ ځلیدونکی چه بلوه شی (دا یوه چراغ په اول کښې) له تیلو د ونی برکتناکی د زیتون چه نه مشرق طرفته وی او نه مغرب طرف ته نژدی دی تیل د دی چه رڼا (رڼرا) وکړی (له خپله ځانه له ډیری صفائی) او اګر که نه وی رسیدلی دی ته اور (دغه) رڼا (رڼرا) د ډیوی) پر رڼا (رڼرا) (د صافو تیلو ده) لیاره ښیی الله نور خپل ته هغه چاته چه اړده وفرمائی او بیانوی الله مثالونه خلقو ته (او په معقولاتو ئی پوهوی د محسوساتو په وسیله) او الله پر هر خیز ښه عالم دی.

**تفسیر:** یعنی د ځمکی او د آسمان رونق او ودانی د الله تعالیٰ له جانبه ده. که الله تعالیٰ مدد ونه کړی نو ګرد (تول) به سره ورانیږی. (موضح القرآن) ګردو (تولو) مخلوقاتو ته د وجود نور او رڼا (رڼرا) د الله له طرفه ورکړی شوی ده. په لمر ـ سپوږمی ـ ستوری ـ پرښتو ـ انبیاؤ او په اولیاؤ هغه ظاهری او باطنی رڼا چه شته د هم هغه منبع‌الانواره ځخه مستفاده ده ـ او د هدایت هغه انوار او پلوشی چه هر چاته رسیږی ـ د هم هغه رفیع دربار ځخه رسیږی ـ تمام علویات او سفلیات د الله تعالیٰ له تکوینیهٔ او تنزیلیهٔ آیاتونو ځخه منور دی ـ د حسن او جمال ـ یا د

خوبی او کمال کومه وړانګه (پلوشه) چه هر چیری بریښی ـ هغه د هم ده له برکته منوره ده ـ او د هغه د مبارک ذات د جمال او کمال یوه پلوشه ده ـ د «ابن اسحٰق» په سیرت کښی راغلی دی! کله چه په (طائف) کښی خلقو رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ورېړاوه (تکلیف کړو) نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر ژبه دغه دعاء وه «اعوذ بنور وجهک الذی اشرقت له الظلمات وصلح علیه امر الدنیا والآخرة ان یحل بی غضبک او ینزل بی سخطک لک العتبیٰ حتیٰ ترضی ولا حول ولا قوة الا بالله» د شپی په تیاره کښی به دوی خپل رب ته داسی دعاء کوله «**انت نورالسمٰوٰت والارض**» او په خپلو غوږونو ـ سترګو ـ زړه ـ هره هره عضو ـ بلکه په هر ویښته سره به دی د الله تعالیٰ د نور او رڼای په طلب کښی ؤ ـ او په آخره ئی د خلاصی په دول (طریقه) داسی فرمایل «**واجعل لی نوراً**» یا «**واعظم لی نوراً**» یا «**واجعلنی نوراً**» یعنی ځما نور لا زیات کړه! بلکه بیخی له ما څخه نور او رڼا (رڼرا) جوړه کړه! په حدیث کښی راغلی دی «ان الله خلق خلقه فی ظلمة ثم القیٰ علیهم من نوره فمن اصابه من نوره یومئذ اهتدی ومن اخطأه ضل (فتح الباری د ٦ ج ٤٣٠ مخ) یعنی هر هغه چاته چه په هغه وقت کښی د الله تعالیٰ له نوره (توفیقه) برخه وروړسیده هغه هدایت وموند ـ او هر هغه چه له هغه څخه بی برخی شو ګمراه پاتی شو.

واضح دی وی هم هغسی چه د الله تعالیٰ نور صفات مثلاً سمع ـ بصر او د نورو کوم کیفیت نشی بیاموندی هم داسی د نور او رڼا (رڼرا) صفت هم د ممکناتو په نور نشی قیاس کیدی. د دغی مسئلی د تفصیل دپاره د «امام غزالی» د «مشکوٰة الانوار» رساله وګوریځ!

هسی خو د الله تعالیٰ په نور سره ګردو (تولو) موجوداتو ښائست موندلی دی، مهتدینو مؤمنینو ته د الله تعالیٰ له نور څخه د هدایت او عرفان هم هغه خصوصی برخه وررسیږی. د هغه مثال داسی وګڼئ چه د قانت مؤمن جسم د یوی طاقچی په شان دی چه د هغی طاقچی په منځ کښی یو ستوری د ځلیدونکی ښیښی (قندیل) په شان ایښی وی ـ دغه ښیښه د ده زړه شو چه د هغه تعلق له پاس عالم سره دی. په دغه ښیښه (قندیل) کښی د معرفت او هدایت ډیوه لګیږی ـ او رونه ځلیږی ـ دغه رڼا (رڼرا) د داسی صافو او شفافو او لطیفو تیلو څخه حاصلیږی چه له یوی مبارکی ونه (خوونه یعنی زیتون) څخه ایستلی او راغلی دی او زیتون هم په داسی یو ځای کښی واقع دی چه د هیڅ پلوه له لمر څخه پټ او په حجاب کښی نه دی ـ نه مشرق کښی دی او نه مغرب کښی دی بلکه په یوه خلاص ـ ارت ډاګ میدان کښی ولاړ دی چه پری د صبا او بیګا د دواړو وقتونو لمر لګیږی لکه چه له تجاربو څخه معلوم شوی دی چه د داسی زیتون تیل لا لطیف او صاف وی الغرض د ده تیل دومره صاف او ځلیدونکی دی چه بی له اوره په خپل سر له ورا رونه ښکاری او داسی بریښی چه پخپله به لګیږی او رڼا (رڼرا) به کوی.

دغه تیل ځما په نزد هغه حسن‌الاستعداد او د توفیق نور دی چه د مبارک نور له القاء څخه په بدؤ الفطرت کښی مؤمن ته حاصل شوی ؤ لکه چه پاس تیر شو او هغسی چه مبارکی شجری ته نی ﴿ لَاشَرْقِيَّةٍ وَلَاغَرْبِيَّةٍ ﴾ فرمایلی وه ـ هغه ربانی نور هم د جهاتو له قیده پاک دی.

خلاصه ئې داسې شوه چه د مؤمن د زړه ښیښه نهایته صافه او پاکه وی ـ او د الله تعالیٰ په توفیق په هغې کښې د حق د قبول داسې يو زبردست استعداد موندل کیږی چه بې له اوره په خپل سر رونه ښکاری ـ او د لګیدلو او رڼا (رڼرا) خوږولو دپاره مستعد او تیار دی اوس که لږ څه اور او حرارت ورنژدې شي يعنې د وحی او قرآن تیره رڼا (رڼرا) هغه مس کړی علیٰالفور د هغه فطری نور مشتعل شي هم دغه ئې «نور علیٰ نور» وفرمایل باقی دغه ګرد (تول) د الله تعالیٰ په قبضه کښې دی د هر چا په نسبت چه اراده وفرمائی دغه رڼا (رڼرا) ئې ور په برخه کوی ـ او هم ده ته ښه معلوم دی چه دغه رڼا (رڼرا) چا ته عنایت وفرمایی؟ او کوم يو ترې محروم کړی؟ د دغو عجیبو او غریبو مثالونو د بیان کولو هم دغه غرض دی چه د استعداد خاوندانو ته د بصیرت يوه رڼا (رڼرا) حاصله شي يواځې په خپله الله تعالیٰ ته د تمثیل مناسب موقع او محل په پوره ډول (طریقه) سره معلوم دی بل چاته له سره دغسې قوت او قدرت نشته چه دغسې موزون او جامع مثال وړاندې کړی شي. وړاندې ئې فرمایلی دی چه هغه رڼا (رڼرا) له دی نه پیدا کیږی چه په هغو مساجدو کښې چه کامل خلق صبا او بیګا عبادت کوی، هلته دی په ښه شان سره خپل فکر او دقت صرف کړی.

**تنبیه:** مفسرانو د دغې تشبیه تقریر په څو څو ډولو (طریقو) سره کړی دی حضرت شاه صاحب هم په «موضح القرآن» کښې نهایت لطیف او عمیق تقریر فرمایلی دی مګر دلته هغه توجیه لیکلی شوی دی چه د دغه بنده په خیال کښې رسیدلی ده. **«وللناس فیما یعشقون مذاهب»** واضح دی وی چه په **«یوقد»** او په ﴿ وَلَوۡ لَمۡ تَمۡسَسۡهُ نَارٌ ﴾ کښې د هغه نار په طرف چه اشاره ده ما په مشبه کښې هلته وحی او قرآن ایښې دی د دی مأخذ هغه فائده ده چه حضرت شاه صاحب پر ﴿ مَثَلُهُمۡ كَمَثَلِ ٱلَّذِی ٱسۡتَوۡقَدَ نَارًا ﴾ باندې لیکلی ده او د هغه تائید د صحیحینو په يو حدیث سره هم کیږی چه په هغه کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه الفاظ فرمایلی دی **«انما مثلی ومثل الناس کرجل استوقد نارا فلما أضاءت ماحوله جعل الفراش وهذه الدواب التی یقعن فیها** ـ الحدیث».

---

## فِي بُيُوتٍ أَذِنَ اللَّهُ أَن تُرۡفَعَ

په هغو کورونو (مساجدو) کښې چه اذن حکم کړی دی الله چه پورته دی کړل شي (په بناء سره دغه مساجد یا په تعظیم سره)

---

**تفسیر:** الله تعالیٰ د هغو کورونو د تعظیم او تطهیر حکم ورکړی دی يعنې د هغوی دی خبر واخیست شي! او له هر قسمه ګندګۍ او لغو افعال او اقوالو څخه دی پاک وساتلی شي د مساجدو په تعظیم کښې دغه هم داخل دی کله چه هلته داخل شي د تحیة المسجد دوه رکعت نافله دی ولوست شي!

وَيُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ

او يادوه شي په هغه كښې نوم د دغه (الله)

**تفسير:** تسبيح، تهليل او د قرآن تلاوت او نور گرد (تول) اذكار په دى كښې شامل دى.

يُسَبِّحُ لَهُ فِيهَا بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ ﴿٣٦﴾

تسبيح وائى دغه (لمونځ كوى الله) ته په دغو كورونو كښې په صبا او په بيگا.

**تفسير:** يعنى په گردو (تولو) مناسبو اوقاتو كښې الله تعالىٰ يادوى. ځينى مفسرين وائى چه له «غدو» څخه د صبا لمونځ مراد دى او په «آصال» كښې باقى څلور واړه لمونځونه داخل دى ځكه چه «اصيل» د لمر له زواله څخه نيولى تر گهيځ (سحر) پورى مودى ته ويل كيږى.

رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَن ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَوٰةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَوٰةِ

(داسى) سرى چه نه غافلوى دوى سوداگرى او نه بيع پيرودل له ذكره ياده د الله او له سم قائمولو اداء كولو د لمانځه او له وركولو د زكوٰة

**تفسير:** يعنى كاروبار او معاش او دنيوى ژوندون دوى د الله تعالىٰ له ياده او د الله تعالىٰ د احكامو د په ځاى راوړلو څخه نه غافلوى مثلاً كه دير لوى سوداگر او بيپار وى كه معمولى دكاندار وى دغه دواړه د الله په ياد كښې تل لگيا وى ـ او هيڅ يو شى دوى د الله تعالىٰ له ذكره نه غافلوى د اصحاب الكرام رضوان الله تعالىٰ عليهم اجمعين هم دغه شان ؤ.

په ښكاره كړى اخستل او خرڅول ـ كړى په زړه كښې د مولىٰ خپل يادول

يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ ﴿٣٧﴾

ویریږی (دوی سره له ذکره او طاعته له عذابه) د هغی ورځی چه آوړی رااوړی مضطرب به وی په هغی ورځی کښی زړونه او سترګی (له ډیری ویری)

**تفسیر:** یعنی په هغه ورځ کښی به زړه په هغی خبری باندی وپوهیږی چه تر اوسه پوری پری نه پوهیده ـ او سترګی به داسی ویروونکی واقعات ووینی چه له سره ئی پخوا له دی نه نه وی لیدلی ـ په زړونو کښی به کله د نجات توقع پیدا کیږی او کله به د هلاک خوف ـ او سترګی به کله ښی خوا ته وګوری او کله کینی خوا ته او د دی خبری په انتظار کښی به وی چه له کوم لوری به نیول کیږو؟ یا د کوم لوری اعمالنامی څمونږ په لاس کښی راکولی کیږی. (او تسبیح وائی په اخلاص او ویریږی له الله تعالیٰ نه)

لِيَجْزِيَهُمُ اللّٰهُ اَحْسَنَ مَا عَمِلُوْا وَيَزِيْدَهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ؕ

دپاره د دی چه جزا ورکړی دوی ته الله ډیره غوره جزاء د هغو عملونو چه کړی دی دوی او زیات به کړی (الله) دوی ته له فضله احسانه رحمته خپل

**تفسیر:** یعنی د هغو ښو کارونو دپاره کوم اجر او صله چه مقرره ده هغه به وررسیږی د الله تعالیٰ له فضله لا څه زیاته هم ورکوله کیږی چه د هغه تفصیل او تعین اوس نشی کیدی.

وَاللّٰهُ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۳۸﴾

او الله رزق روزی ورکوی هر چاته چه اراده وفرمائی (د رزق ورکولو د هغو بی له حسابه (وافره پریمانه)

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ په دربار کښی د هیڅ یو شی کمی نشته که جنتیانو ته بیحده او بیحسابه نعماء او آلاء عنایت وفرمائی نو ده ته هیڅ مشکل نه دی.

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَعْمَالُهُمْ كَسَرَابٍۢ بِقِيْعَةٍ يَّحْسَبُهُ الظَّمْاٰنُ مَآءً ؕ حَتّٰٓى اِذَا جَآءَهٗ
لَمْ يَجِدْهُ شَيْـًٔا وَّوَجَدَ اللّٰهَ عِنْدَهٗ فَوَفّٰىهُ حِسَابَهٗ ؕ وَاللّٰهُ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۳۹﴾

او هغه کسان چه کافران شوی دی عملونه د دوی په شان د سراب دی په هواره ډاګ کښې چه ګمان کوی پر هغه باندی تږی د اوبو تر هغه پوری چه راشي (او ورسیږی هغه شی ته چه د اوبو ګمان ئی پری کړی ؤ) نو ونه مومی دغه سړی هغه چه ګمان د اوبو پری کړی شوی ؤ هیڅ شي او بیا به مومی (عذاب د) الله په نزد (د عمل) خپل پس پوره به ورکړی (الله) ده ته پوره حساب (جزا د عمل د ده) او الله ډیر ژر (اخیستونکی) د حساب دی.

**تفسیر:** روایت دی چه عتبه بن ربیعه په جاهلیت کښې ډیر عبادت او طلب د دین کاوه بیا چه د اسلام لمر راوخوت دی کافر شو ـ نو په دغه مناسبت دغه پاس آیت نازل شو چه مطلب ئی دغه دی او هغه کسان چه کافران دی هغه عملونه د دوی چه په ظاهر کښې نیک ښکاری لکه د صلة الرحمی پالل یا د مریی آزادول ـ یا د وږی مړول یا دغسی نور خیر خیرات کول ـ نو دغه ګرد (تول) عملونه پشان د هغی ښوری دی چه په هوار میدان کښې ښکاریږی په سخته ګرمی په وقت د نیمی ورځی کښې او داسی بریښې چه تږی سړی پری د اوبو ګمان کوی او په بیړه (تلوار) مخامخ وردرومی تر هغه چه ورسیږی هغه ځای ته چه د اوبو ګمان پری شوی ؤ نو بیا نه مومی دی هغه ګمان کړی شوی خپل هیڅ شی الخ. کافران په دوه قسمه دی یو هغه چه په خپل زعم او عقیده سره څه نه څه ښه کارونه هم کوی او داسی ګڼی چه ورروسته له مرګه به می په کار راشي ـ حال دا که د ده کوم کار په ظاهره سره ښه هم وی نو د کفر له شأمته عند الله هغه مقبول او معتبر نه دی د دغو غولیدلو کفارو مثال داسی وګڼئ لکه چه په تکنده غرمه کښې په وچه لویه بیدیا کښې یو تږی سړی ته له لری څخه اوبه ښکاره شي او هغه په حقیقت کښې ځلیدونکی شګه (شګی ګل) وی او دغه تږی د ډیری تندی په حالت کښې ورورسیږی که ګوری چه اوبه هلته هیڅ نشته ـ بلکه د موت او هلاک کنده لا ورته مخامخ پرته ده او د حساب او کتاب وقت په سر ورته ولاړ او پاک الله بالذات د ده د ګرد (تول) عمر حساب او کتاب اخلی د هم دغه اضطراب او حسرت په وقت کښې د ده ګرد (تول) حساب یو ځلی الله تعالیٰ تصفیه او خلاصوی ولی چه د حسابونو ژر انجام او سریع اتمام د الله تعالیٰ د قدرت په مقابل کښې ډیر آسانه کار دی او په یوه طرفة العین د ګرد (تول) عمر او د ګردو (تولو) خلقو حساب کتاب فیصله او پری کوی دوهم هغه دی چه له سره تر پایه پوری په دنیوی عیشونو او عشرتونو او مزو کښې مغروق او د جهل کفر ـ ظلم او عصیان په ظلماتو کښې غوټی وهی نو د هغوی مثال وړاندی بیان فرمائی د دوی سره د رڼا (رنړا) دومره یوه وړانګه (پلوشه) هم نشته لکه چه هغه پر سرابونو باندی غولیدونکی ته پر نظر راتله دغه خلق په خالصو تیارو کښې او په یوه د پاسه په بل ظلمات کښې بند پراته دی. له هیڅ طرف د رڼا (رنړا) پلوشه یا د روښنی وړانګه (پلوشه) ورته نه رسیږی. نعوذبالله منها.

أَوْ كَظُلُمٰتٍ فِي بَحْرٍ لُّجِّيٍّ يَغْشٰهُ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ
سَحَابٌ ظُلُمٰتٌ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ إِذَآ أَخْرَجَ يَدَهٗ لَمْ يَكَدْ
يَرٰىهَا وَمَنْ لَّمْ يَجْعَلِ اللّٰهُ لَهٗ نُوْرًا فَمَا لَهٗ مِنْ نُّوْرٍ ﴿٤٠﴾

يا (عملونه د دوی) پشان د هغو تاريكيو دی په بحر ژور كښې چه پټ كړی وی (دغه بحر) لره يو موج د پاسه ئی بل موج وی او د پاسه د دغه (موج) وريځ وی (دغه ځلور قسمه) تياری دی چه ځينی د دوی د پاسه د ځينو نورو دی، كله چه راوباسی (دغه پريوتی په دغو تيارو كښې) لاس خپل نه وی نژدی (دی) چه ووينی دغه (لاس خپل) او هر هغه چه نه وی وركړی الله ده ته نور رڼا (رڼړا) پس نشته ده ته هيڅ نور رڼا (رڼړا)

**تفسير:** يعنی د سمندر په ژورو كښې (١) بخپله د لوی سيند تياره (٢) د هغه د پاسه د طوفانی هوا او امواجو تپه توره تياره (٣) بيا د هغه ځخه برسيره د سختی ويروونكی تكی توری وريځی تياره (٤) ورسره د ترږمو توره تياره شپه هم فرض كړه شی، نو پر دغو تيارو باندی لا پسی تزئيد كيږی. په دغو تورو تيارو كښې كه دغه واقع په بحر كښې خپل لاس چه اقرب الاعضاء دی پورته كړی ـ او خپلو ستركو ته ئی نژدی راولی نو بيا هم د ډيرو تيارو له سببه به ئی هيڅ شی په نظر نه ورځی چه هغه ته ځمونږ په محاورو كښې داسی وائی چه «ستركو ته ستركی په كار دی» پاس د مؤمنانو په ذكر كښې يی چه «يهدی الله لنوره من يشاء» فرمايلی ؤ دغه جمله د هغی په مقابل كښې ده يعنی هر هغه چاته چه الله تعالیٰ نور او توفيق نه وی وركړی نو هغه ته بل ځوک څه رڼا (رڼړا) رسولی شی؟ ـ د هغه استعداد خراب ؤ توفيق ور ونه رسيد او د سيند په ژوره كښې ولويد او د رڼا (رڼړا) ورتلو دروازی ئی پر خپل ځان پسی بندی كړی نو بيا نور او رڼا (رڼړا) له كومی لياری ورننوځی.
**تنبيه:** ربالعزت په اعمالو د كفارو پوری دوه مثالونه وتړل په دری اعتباره سره (١) په اعتبار د تخيير چه ای مخاطبه كه دغو اعمالو ته گوری چه هيڅ فائده او نفع نه لری نو لكه سراب دی.
(٢) كه دی ته گوری چه نور او رڼا (رڼړا) د حق او ايمان ورسره مل نه وی نو لكه ظلمات دی.
(٣) كه په اعتبار د تقسيم د مكانينو ورته گوری نو نظر عقبیٰ ته دا لكه سراب داسی دی او نظر دنيا ته لكه ظلمات داسی دی.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللّٰهَ يُسَبِّحُ لَهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَالطَّيْرُ صٰٓفّٰتٍ

آیا نه وینی ته ای مخاطبه! بیشکه الله چه دی تسبیح وائی ده ته هر هغه چه په آسمانونو کښې دی (او هر هغه) چه په ځمکه کښې دی (سره له آسمانونو او ځمکی) او مرغان هم (تسبیح وائی) په دغه حال کښې چه خواره کوونکی وی د وزرو خپلو (په هوا کښې).

**تفسیر:** ښائی د الوتونکو مرغانو ذکر يې له دی لامله (له وجی) جلا (جدا) فرمايلی وی چه هغوی به په دغو اوقاتو کښې د آسمان او ځمکی په منځ کښې معلق وی او د دوی په دغه شان او کیفیت سره الوتل د الله تعالیٰ د قدرت او قوت او عظمت لوی دلیل دی.

كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهُ وَتَسْبِيحَهُ ۗ

هر یوه (له دغو مذکورینو چه دی) په تحقیق معلوم دی (الله) ته لمونځ د هغه او تسبیح د هغه

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ هر شی ته د هغه د حال سره مناسب د انابت ـ عبودیت ـ اطاعت ـ تسبیح او تهلیل ویل الهام فرمايلی دی چه هغه پر دغه پوهیدلی دی او تل همغه خپله وظیفه بلا ناغه ادا کوی لیکن د افسوس او تعجب مقام دی چه ډیر تش په نامه سره انسانان د غرور او غفلت او د ظلمت او جهالت په دلدل کښې داسی ښخ شوی دی چه د حقیقی مالک له يادولو ـ او د عبودیت د وظیفی په ځای راوړلو څخه بیخی بی برخی پاتی دی.

**تنبیه:** د مخلوقاتو د تسبیح په نسبت د سورت بنی اسرآئیل په (٥) رکوع کښې څه مضمون پخوا له دی نه لیکلی شوی دی ښائی چه هغه هلته ولوست شی. په یو حدیث کښې راغلی دی چه حضرت نوح علیه السلام خپلو ځامنو ته د تسبیح وصیت وفرمايه او وی ویل «**وانهاالصلوٰة الخلق** ـ هم دغه د باقی مخلوقاتو لمونځ دی».

وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِمَا يَفْعَلُونَ ﴿٤١﴾

او الله ته ښه معلوم دی هغه (اعمال هم) چه کوی ئی دوی

**تفسیر:** یعنی اګر که د دوی په عبادت او بندګی باندی تاسی ونه پوهیږئ لیکن پاک الله ته دغه ګرد (تول) شیان معلوم دی او الله تعالیٰ ته دغه ښه معلوم دی چه هر څوک څه کوی؟

وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ﴿٤٢﴾

او خاص الله ته دی ملک سلطنت د آسمانونو او د ځمکی (سره له آسمانونو ځمکو او مافیهما) او (هم خاص) الله ته دی (بیرته ورتله د تولو) .

**تفسیر:** یعنی څرنګه چه د دوی علم پر ګردو (تولو) محیط دی د ده حکومت هم پر تولو علویاتو او سفلیاتو حاوی دی او د تمامو بیرته ورتګ او رجوع هم د ده په لوری ده.
وروسته له دی نه الله تعالیٰ جل وعلا شانه واعظم برهانه خپلو حاکمانه او قادرانه تصرفاتو داسی بیان فرمائی.

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يُزْجِيْ سَحَابًا ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيْنَهٗ ثُمَّ يَجْعَلُهٗ رُكَامًا فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلٰلِهٖ ۚ

آیا نه وینی ته (ای مخاطبه) چه بیشکه الله روانوی شړی وریځی (توتی توتی هر طرف ته چه اراده وفرمائی) بیا یوځای والی فرمائی په منځ د دغو (توتو د وریځو) کښی بیا ئی وګرځوی لاندی باندی قط په قط پس وینی به ته ای (انسانه) باران چه وځی له منځه د دی وریځی

**تفسیر:** یعنی ړومبی د وریځو وړوکی توتی پورته کیږی، دغه ګردی (تولی) سره یو ځای کیږی او یوه لویه د وریځی توته تری جوړیږی بیا دغه وریځی داسی ترتیب او ترکیب مومی چه د یوی د پاسه به ځای نیسی او یوه پریره (غته) طبقه تری متشکله کیږی.

وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَآءِ مِنْ جِبَالٍ فِيْهَا مِنْ بَرَدٍ فَيُصِيْبُ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ وَيَصْرِفُهٗ عَنْ مَّنْ يَّشَآءُ ۗ يَكَادُ سَنَا بَرْقِهٖ يَذْهَبُ بِالْاَبْصَارِ ﴿٤٣﴾

او نازلوی (الله) له (طرفه د) آسمانه له (وریځو یا د ږلیو په شان د) غرونه چه وی په هغو (غرونو) کښی ځینی له ږلی پس رسوی (الله) د ا ږلی هغه چاته چه اراده وفرمائی (د رسونی ئی) او ګرځوی ئی له هر هغه چا څخه چه

اراده ئی وفرمائی (د ګرځولو يې) نژدې وی رڼا (رڼرا) بريښنا د هغو (برلی) چه بيول وکړی په ابصارو (د ناظرينو او ورک کړی بصارت ئی)

**تفسير:** يعنی لکه چه په ځمکه کښی د تيرو (ګټو) غرونه دی ځينو اسلافو ويلی دی چه هم داسی په آسمان کښی هم د برلی غرونه دی. شيخ الهند محمود الحسن رحمة الله عليه د دی سره موافقه ترجمه کړی ده ليکن زياته او راجح او قوی دا ده چه له سماء څخه وريځی مراد شی مطلب ئی داسی شو چه له وريځو څخه چه په کثافت او غلظت کښی د غرونو په شان دی برلی اوروی چه له هغو څخه ډيرو خلقو ته جانی او مالی نقصانات رسيږی او زيات کسان تری محفوظ پاتی کيږی مشهوره ده چه د برلی راش د غوائی په يو ښکر کښی وی او بل ښکر ئی وچ پاتی وی د بريښنا بريښيدل دومره تيره او زيات وی چه سترګی تری بريښی او نژدی وی چه د کتلو قوت ئی ضائع کيږی.

يُقَلِّبُ اللّٰهُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّاُولِي الْاَبْصَارِ ۝۴۴

ګرځوی الله شپه او ورځ (په تبديل تزئيد تنقيص حرارت برودت ضياء ظلمت او نورو) بيشکه په دغو (مذکوره‌ؤ شيانو) کښی خامخا عبرت دی خاوندانو د سترګو او بصيرت ته

**تفسير:** يعنی د ورځی څخه وروسته شپه او د شپی څخه وروسته ورځ د هم دغه پاک الله په قدرت ځی راځی ـ هم دغه الله تعالیٰ کله ورځی او کله شپی اوږدوی او لندوی او د هغوی تودوالی په يخوالی او يخوالی په تودوالی سره تبديلوی. نو لا سم دی چه د قدرت د داسی عظيم‌الشان دلائلو او شواهدو د ليدلو څخه انسان بصيرت او عبرت حاصل کړی ـ او د هغه حقيقی مالک الملکوت په طرف د زړه په صدق سره رجوع وکړی چه د ده په قدرت کښی د دغو ګردو (تولو) تقلباتو او تصرفاتو زمام او واګی دی.

وَاللّٰهُ خَلَقَ كُلَّ دَاۗبَّةٍ مِّنْ مَّاۗءٍ ۚ فَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ عَلٰي بَطْنِهٖ ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ عَلٰي رِجْلَيْنِ ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ عَلٰٓي اَرْبَعٍ ۭ يَخْلُقُ اللّٰهُ مَا يَشَاۗءُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝۴۵

او الله پيدا کړی دی هر حيوان چه ګرځی (په ځمکه کښی) له اوبو پس

ځینی له هغوی هغه دی چه تگ کوی (خوځیږی) پر نس گیده پر تتر خپل (لکه مهی مار) او ځینی له دوی هغه دی چه تگ کوی پر دوو پښو (خپلو لکه انسان مرغان) او ځینی د دوی هغه دی چه تگ کوی په څلورو (پښو خپلو لکه آس اوښ)، پیدا کوی الله (ماسواء له دغو مذکورو) هر هغه څه چه اراده ئی وفرمائی (د خلقت د هغو) بیشکه الله پر هر څیز باندی (چه اراده وفرمائی) ښه قادر دی (چه ځینی ئی خلقت د هر راز (قسم) مخلوقات دی).

**تفسیر:** یعنی که کوم حیوان ته له څلورو پښو څخه زیاتی پښی هم ورکړی دی نو بعید نه دی او د ده لامحدوده قدرت او مشیت هیڅوک نه شی محصورولی او که الله تعالیٰ خپل ځینو مخلوقاتو ته دغسی قدرت ورعطاء کړی چه هغوی له جماداتو او عناصرو او نورو څخه نور شیان ایجاد او اختراع کړی نو هغه هم د هم دغه الله تعالیٰ لطف او احسان دی چه هغوی ته ئی دغسی پوه او ادراک ور په برخه کړی دی

پر دغه آیت ښائی د ﴿وَجَعَلۡنَا مِنَ ٱلۡمَآءِ كُلَّ شَيۡءٍ حَيٍّ﴾ تفسیر چه د الانبیاء په (۲) رکوع کښی مو لیکلی دی بیا ولوست شی.

لَّقَدۡ أَنزَلۡنَآ ءَايَٰتٖ مُّبَيِّنَٰتٖۚ وَٱللَّهُ يَهۡدِي مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٤٦﴾

خامخا په تحقیق نازل کړی دی مونږ آیاتونه بیانوونکی واضح او الله سمه صافه لیاره ښیی هر هغه ته چه اراده وفرمائی (د لیار ښوونی د هغی) لیاری سمی صافی (د اسلام او جنت ته).

**تفسیر:** یعنی تکوینیه او تنزیلیه آیات ئی دومره ښکاره او واضح دی چه د هغو په لیدلو او آوریدلو هم هیڅ یو عقلمن انسان ښائی گمراه او بی لیاری نشی - لیکن پر سمه صافه لیاره همغه تلی شی چه الله تعالیٰ ورته د هدایت توفیق ور په برخه کړی وی. سره له دی چه په ملیونو انسانانو دغه د قدرت ظاهری او باهری دلائل او شواهد گوری کله چه دوی د هغو په وسیله خالق تعالیٰ نه پیژنی او نه موحدان او مسلمانان کیږی گواکی د نتیجی په اعتبار د دوی دغه لیدل د نه لیدلو په شان دی.

وَيَقُولُونَ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَبِٱلرَّسُولِ وَأَطَعۡنَا ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٞ مِّنۡهُم مِّنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَۚ وَمَآ أُوْلَٰٓئِكَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٤٧﴾

او وائی (دا منافقان) چه ایمان راوړی دی مونږ پر الله او پر رسول (د الله) او حکم منلی دی مونږ (د الله او د رسول الله) بیا مخ ګرځوی (له اسلامه) یوه ډله له دوی وروسته له هغه (ایمان او اطاعت) او نه دی دغه (ګرځیدونکی) مؤمنان (صدقاً).

**تفسیر:** دغه د منافقینو ذکر دی، دوی به په ژبه سره د ایمان او اطاعت دعوی کوله کله چه د عمل وقت راته نو سم له خپلی دعوی سره به ئی عمل نه کاوه او له اسلامی احکامو به ئی مخ ګرځاوه. حقیقت دا دی چه د دوی په زړونو کښی له ابتداء څخه د ایمان او انقیاد آثار نه ؤ موجود - هغه چه د ژبی جمع او خرخ ؤ د امتحان او ابتلاء په وقت کښی به دغه کلائین هم ویلی کیده او دروغ به ئی له رښتیا څرګند او جلا (جدا) ښکاریده.

وَإِذَا دُعُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٤٨﴾
وَإِن يَكُن لَّهُمُ ٱلْحَقُّ يَأْتُوٓا۟ إِلَيْهِ مُذْعِنِينَ ﴿٤٩﴾

او هر کله چه وبللی شی دوی الله او رسول د دغه (الله) ته دپاره د دی چه حکم وکړی دغه (رسول) په منځ د دوی کښی ناڅاپه یو فریق ډله د دوی اعراض کوونکی دی (له حکم د رسوله) او که چیری وی دوی ته حق (په زعم د دوی پر بل) نو راځی دوی دغه (رسول الله) ته ګړندی فرمان منونکی.

**تفسیر:** یعنی که له دوی جګړه له چاسره واقع کیده - او په دی پوهیده چه مونږ په ناحقه یو په دغه وقت کښی که مقابل فریق هغوی ته ویل چه راځه چه د حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم حضورته لاړ شو - او د دغی جګړی فیصله له هغوی څخه وغواړو! نو دغه منافقان به په دغه ورتګ نه راضی کیده ځکه چه دوی پوهیدل چه حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم بی له لحاظ او خاطر د حق او حقانیت رعایت کوی او سم له عدله او انصافه خپله فیصله صادروی چه په هغه تقدیر به د دوی له مفاد څخه مخالف واقع کیده حال دا چه پخوا له دی نه به دوی داسی دعوی کوله چه مونږ پر الله تعالیٰ او رسول الله ایمان راوړی دی او د دوی ګرد (تول) احکام منو نو اوس د دوی هغه دعوی چیری لاړه؟ هو! که په کومه معامله کښی حق د دوی په طرف وی نو په دغه وقت کښی په ډیر سرعت او چالاکی او په ماته غاړه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دربار ته حاضریږی او د خپلی فیصلی انحصار د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په مبارک ذات څرګندوی - ځکه چه په دغه تقدیر دوی داسی ګنی چه هلته سم له عدالته او انصافه ځمونږ په جانب فیصله صادریږی. نو دغه څنګه ایمان او اسلام دی؟ دا خو تش شخصی

اغراض او هواپرستی ده.

أَفِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ

آیا په زړونو د دوی کښې مرض رنځوری (د کفر او نفاق) ده.

**تفسیر:** مرض رنځوری او ناروغی دغه ده چه دوی الله تعالیٰ او رسول الله صلی الله علیه وسلم په رښتیا سره ومانه لیکن حرص ـ طمع او دنیوی اغراضو د دوی مخه ونیوله چه پر خپله همغه وینا او اقرار به ئی عمل هم کاوه ـ لکه چه د رنځور زړه غواړی چه قدم ووهی او چیری لاړ شی لیکن د ده قدمونه حرکت نشی کولی او دی د خوځیدو نه وی.

أَمِ ارْتَابُوا أَمْ يَخَافُونَ أَن يَحِيفَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ وَرَسُولُهُ ۚ بَلْ أُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ ﴿٥٠﴾

آیا شکمن دی دوی (په نبوت د محمد) آیا ویریږی دوی له دی نه چه ظلم به وکړی الله پر دوی (یا ظلم به وکړی) رسول د دغه (الله پر دوی داسی نه دی چه الله او رسول الله پر چا ظلم وکړی بلکه دوی چه دی هم دوی ظالمان دی (په اعراض سره)

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ جل جلاله او محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په نسبت تاسی ته څه تردد او اندیښنه پیدا شوی ده یا د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په صداقت یا د الله تعالیٰ جلجلاله په وعد او وعید کښی څه شک او شبهه لرئ؟ یا داسی گمان کوئ چه الله تعالیٰ جلجلاله یا د هغه محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم به د دوی معاملات په خلاف د انصاف فیصله کوی؟ نو ځکه د دوی په حضور کښی د خپلی دعوی له وړلو څخه څه اندیښنه او تردد کوی نو په یاد ئی ولرئ چه هلته له سره د ظلم او بی انصافی احتمال نشته هو! پخپله هم دغو خلقو ظلم ته خپلی ملاوی تړلی دی او غواړی چه خپل حق پوره حاصل کړی او د نورو یوه پیسه هم بیرته ور نه کړی نو ځکه له دی نه ویریږی چه خپل معاملات محمدی شریعت او د الٰهی عدالت ته وړاندی کړی ځکه چه پوهیږی چه د محمد رسول الله منصفانه فیصله به ځمونږ له مطلب څخه خلاف وی. دغه د منافقانو ذکر ؤ په مقابل د دوی کښی اوس د مخلصانو د اطاعت او فرمان منلو بیان هم فرمائی

إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِينَ إِذَا دُعُوا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ لِيَحْكُمَ
بَيْنَهُمْ أَنْ يَقُولُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ۚ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿٥١﴾

بیشکه هم دا خبره ده چه ده وینا د مؤمنانو کله چه وبللی شی دوی الله ته او رسول د دغه (الله) ته دپاره د دی چه حکم وکړی په منځ د دوی کښې (په وقت د جګړی کښې) دا چه ووائی واوریده مونږ (خبره د تا) او ومانه مونږ (حکم د تا او دغه ویونکی هم دوی دی بریالیان (کامیاب) خلاصی موندونکی (له عذابه په مراد رسیدلی).

**تفسیر:** یعنی د صادقو مسلمانانو کار داسی وی او ښائی چه هم داسی وی لکه چه په کومه معامله کښې دوی ته د الله د احکامو بلنه او دعوت وشی اګر که ظاهراً په هغه کښې د دوی ګټه (فائده) یا تاوان وی په منده ورځغلی او د یوی شیبی دپاره څه ځنډ (تاخیر) او توقف په کښې نه کوی او فی‌الفور «**سمعاً وطاعة**» ووائی او د هغه د حکم منلو دپاره تیار او آماده شی چه په دغه کښې د دوی د اصلی نیکی او حقیقی فلاح راز (قسم) مضمر دی.

وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَخْشَ اللَّهَ وَيَتَّقْهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَائِزُونَ ﴿٥٢﴾

او هر څوک چه اطاعت وکړی حکم ومنی د الله او د رسول د دغه (الله) او وویریږی له الله او ځان وساتی (له غضبه د ده) پس دغه (فرمان منونکی ویریدنکی) هم دوی دی بری موندونکی د (جنت)

**تفسیر:** یعنی هغه چه فی‌الحال مطیع وی او پر خپلو تیرو تقصیراتو نادم وی او له الله تعالیٰ څخه وویریږی او توبه وکړی او په مستقبل کښې له بدو چارو او لیارو څخه خپل ځان وساتی نو د دوی دپاره په دنیا او آخرت کښې بری او کامیابی ده.

وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَئِنْ أَمَرْتَهُمْ لَيَخْرُجُنَّ ۖ قُلْ لَا
تُقْسِمُوا ۖ طَاعَةٌ مَعْرُوفَةٌ ۚ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿٥٣﴾

او قسمونه خوری (منافقان) په الله سخت سخت قسمونه د دوی قسم دی
خامخا چه که ته (حکم) امر وکړی دوی ته (په وتلو سره جهاد ته) نو
خامخا به وځی (دغه جهاد ته) دوی هرومرو (خامخا) ووایه (ای محمده
منافقانو ته) قسم مه خورئ تاسی د دروغو طاعت نیک (ځمونږ مطلب دی)
بیشکه الله ښه خبردار دی په هغو کارونو چه کوئ تاسی.

**تفسیر:** یعنی منافقان ډیر سخت تاکیدی قسمونه خوری او غواړی چه تاسی بیخی داډه او متیقن کړی چه «که تاسی مونږ ته حکم راکړئ نو مونږ گرد (تول) کور کهول پریږدو او دی ته تیار ولاړ یو چه د الله تعالیٰ لیاری ته ووځو او د هغه د گردو (تولو) احکامو تعمیل وکړو که محمد رسول الله مبارک لږ څه اشاره وفرمائی نو مونږ خپل گرد (تول) مال دولت د الله تعالیٰ په لیاره کښی لگوو او مونږ تری بیخی جلا (جدا) کیږو» نو د دی په نسبت داسی فرمائی چه دومره غتو خبرو ویلو او داسی قسمونو یادولو ته حاجت نشته ستاسی د اطاعت حقیقت گردو (تولو) ته معلوم شوی دی تاسی خو په ژبه ډیری دعوی کوئ او وچت وچت غریږئ لیکن د عمل په وقت کښی ورو ځانونه بیرته راکاږئ ښائی چه تاسی د صادقو مسلمانانو په شان خپل ښه اعمال او مجاهدت او حسن اطاعت راښرگند کړئ له داسی غتی خبری او قسمو خوړلو څخه هیڅ یوه فائده په لاس نه درځی فرض ئی کړئ چه تاسی هم داسی قسمونو سره د بندگانو اطمینان او یقین ځان ته حاصل کړئ لیکن د الله تعالیٰ په نزد کښی هیڅ قسم چل فریب ـ مکر ـ دروغ نه چلیږی او هغه ته خو گردی (تولی) ظاهری او باطنی خبری او احوال ښرگند دی او وروسته له دی نه به ستاسی د مکر او فریب او نفاق پرده وشلوی.

قُلْ اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ۚ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا عَلَيْهِ
مَا حُمِّلَ وَعَلَيْكُمْ مَّا حُمِّلْتُمْ ؕ وَاِنْ تُطِيْعُوْهُ تَهْتَدُوْا ؕ وَمَا عَلَى
الرَّسُوْلِ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۵۴﴾

ووایه (ای محمده دوی ته) اطاعت وکړئ (حکم ومنئ) تاسی د الله او د رسول
(د الله په خلوص سره په هر څه کښی) پس که مخ وگرځوئ تاسی (ای خلقو
له اطاعته د رسول الله) نو بیشکه هم دا خبره ده چه دی پر دغه رسول ځما
هغه بار (د تبلیغ) چه پری ایښی شوی دی او دی پر تاسی (بار) چه پر
تاسی ایښی شوی دی (او پری مکلف یئ چه اطاعت د رسول الله دی) او که
اطاعت وکړئ حکم ومنئ تاسی د دغه (رسول الله) نو سمه صافه لیاره به

ومومئ اوِ حق ته به پرې ورسيږي او نه دي پر (ذمه د) رسول مګر رسونه ښکاره (د شرائعو چه هغه ئې ادا کړی ده)

**تفسير:** يعنې پر رسول د الله تعالیٰ له طرفه د تبليغ بار ايښی شوی دی چه ده هغه په ښه شان سره اداء کړی دی او کوم بار چه پر تاسې ايښی شوی دی هغه تصديق او د حق قبول دی او دغه ده چه د ده د ارشاده سره موافق تګ وکړئ! که تاسې دغه خپله ذمه‌واری محسوسه کړئ ـ او د محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم د احکامو تعميل په ښه شان سره وکړئ نو د دواړو دارينو بری او د کاميابی لياره به ومومئ! او په دنيا او عقبیٰ کښې به خوشال اوسيږئ! که نه د محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم هيڅ نقصان نشته او تاسې به د خپلو شرارتونو او سر کشيو سزا او بده نتيجه پخپله وګورئ محمد رسول الله خو خپله فريضه اداء کړی ده او عند الله له خپلی ذمه واریٔ څخه مسئول نه دی. وروسته له دی نه د اطاعت‌الرسول ځينې ثمرات بيان فرمائی چه د هغه سلسله به په هم دغه دنيا کښې شروع کيږی.

وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْاَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۖ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِيْنَهُمُ الَّذِي ارْتَضٰى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ خَوْفِهِمْ اَمْنًا ۚ يَعْبُدُوْنَنِيْ لَا يُشْرِكُوْنَ بِيْ شَيْـًٔا ۚ

وعده کړی ده الله له هغو کسانو سره چه ايمان ئې راوړی دی له تاسې او کړی ئې دی ښه (عملونه) چه قسم دی خامخا به خليفګان کړي (الله) دوی په ځمکه کښې لکه چه خليفګان کړي ئې ؤ هغه کسان چه پخوا وو له دوی نه او خامخا ثابت قوی به وګرځوی هرومرو (خامخا) دوی ته دين د دوی هغه (دين د اسلام) چه غوره کړی دی (الله) دوی ته او هرومرو (خامخا) بدل به ورکړی هرومرو (خامخا) دوی ته وروسته له ويری د دوی له دښمنانو امن (او اطمينان) عبادت به کوی دوی ځما شريک به نه پيدا کوی له ماسره هيڅ څيز

**تفسير:** دغه خطاب ئې د رسول الله د زمانی خلقو ته فرمايلی دی يعنې هغه ذوات چه د دوی په منځ کښې په اعلیٰ درجه نيکان او د سيدالانس والجان کامل پيروان او تابعان دی وروسته له رسول الله به دوی ته د ځمکی حکومت ورکاوه کيږی. او د اسلام دغه دين به چه د الله تعالیٰ

خوښ او پسند دی د دوی په لاسونو خوروی او قائموی . لکه چه د استخلاف په لفظ کښی دی طرف ته اشاره ده چه دغه کسان به تش د دنیوی باچاهانو په شان نه وی بلکه د رسول الله خلیفه‌گان به وی د سماوی حکومت اعلان کوی او د حق دین اساسونه به قائموی. او په بر او بحر او هر چیری به د دوی احکام او تصرفات جاری کیږی. په دغه وقت کښی به مسلمانان د کافرانو څخه نه ویریږی. او په پوره امن او سکون سره به د الله تعالیٰ په عبادت کښی مشغول او لګیا اوسیږی او په دنیا کښی به د امن او امان زمانه او دوره وی د دغو مقبولو او معززو بندګانو ممتاز شان به دغه وی چه دوی به د خالص واحد الله تعالیٰ عبادت او بندګی داسی کوی چه په هغی کښی به د یوی ذری په اندازه هم د شرک او اختلاط اثر نه وی د جلی شرک ذکر او نسبت خو له دغو سره امکان نه لری. د خفی شرک لږ آثار او علائم به هم په دوی کښی نه لیدل کیږی دوی ګرد (تول) به د یوه الله قدوس جل وعلا شانه وعظم برهانه خالص بندګان وی او یواځی به له الله تعالیٰ څخه ویریږی او یواځی هغه ته به هیله (آرزو) او آسره کوی او پری متوکلان معتمدان به وی د الله د رضاء په لیاره کښی به ژوندون کوی او په هم دغه لیاره کښی به خپل ځانونه جاروی (قربانوی) پرته (علاوه) له الله تعالیٰ د بل کوم موجود خوف او ویره به له سره د دوی په زړونو کښی لیاری نه مومی او نه به د بل چا د خوښی او خفګان څه پروا کوی.

الحمد لله چه د الله تعالیٰ دغه وعده د څلورو تنو راشده‌ؤ خلفاؤ رضی الله تعالیٰ عنهم په لاسونو پوره شوه او ګردی (تولی) دنیا د دغه عظیم‌الشان پخوا ویلو د یوه یوه وینا د یوه یوه حرف مصداق پخپلو سترګو سره ولیدل د څلورو واړو راشده‌ؤ خلفاؤ رضی الله تعالیٰ عنهم څخه وروسته هم اسلامی باچاهان وقتاً فوقتاً په هم دغو اوصافو سره متصف راغلی دی ـ هر کله چه الله تعالیٰ بیا اراده وفرمائی وروسته له دی نه هم راځی.

په احادیثو کښی راغلی دی چه وروستنی خلیفه به امام مهدی رضی الله تعالیٰ عنه وی چه د هغه په نسبت عجیب او غریب بشارات اورول شوی دی. د الله تعالیٰ ځمکه له عدله او انصافه ډکوی ـ او په خارق‌العاده ډول (طریقه) سره به فی سبیل الله جهاد کوی او د هغه په قوت به کلمة الله ته اعلاء او اسلام ته ښه ترقی او اعتلاء ورکوی. اللهم احشرنا فی زمرته ـ **وارزقنا شهادة فی سبیلک انک واسع المغفرة وذوالفضل العظیم**.

**تنبیه:** د دی د استخلاف له آیت څخه د څلورو واړو راشده‌ؤ خلفاؤ رضی الله تعالیٰ عنهم ډیر لوی فضیلت او منقبت راوځی ـ ابن کثیر د دی آیت په ذیل کښی د نبوت له منوره عهده راخیستی تر عثمانی عهد پوری ئی اسلامی فتوحات درجه په درجه بیان کړی دی او په آخره کښی ئی دغه الفاظ لیکلی دی «**وجبی الخراج من المشارق والمغارب الی حضرة امیر المؤمنین عثمان بن عفان رضی الله تعالی عنه وذلک ببرکة تلاوته ودراسته وجمعه الامة علیٰ حفظ القرآن ولهٰذا ثبت فی الصحیح ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال «ان الله زوی لی الارض فرأیت مشارقها ومغاربها وسیبلغ ملک امتی مازوی لی منها»**

**فها نحن نتقلب فيما وعدنا الله ورسوله وصدق الله ورسوله فنسأل الله الايمان به وبرسوله والقيام بشكره على الوجه الذى يرضيه عنا»**

وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذٰلِكَ فَأُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿٥٥﴾

او هر څوک چه کافر شو پس له دغو لويو انعاماتو پس دغه کسان هم دوی (غټ) فاسقان دی.

**تفسير:** يعنى د داسى عظيمهؤ انعاماتو څخه وروسته ناشکرى د ډيرو لويو مجرمانو او د زوورورو عاصيانو کار دی ـ حضرت شاه صاحب فرمائى «هر هغه څوک چه د اربعه ؤ خلفاؤ د خلافت او د دوی د فضل او شرف څخه منکر شو د دغو الفاظو څخه د ده حال څرګنداوه شی» ﴿رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْإِيْمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِيْ قُلُوْبِنَا غِلًّا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا رَبَّنَآ إِنَّكَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ﴾

وَأَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَأَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿٥٦﴾

او قائموئ تاسى (سم اداء کوئ سره له تولو حقوقو) لمونځ او ورکوئ زکوٰة او اطاعت وکړئ حکم ومنئ تاسى د رسول (د الله) ښائى تاسى ته چه رحم وکړ شى پر تاسى.

**تفسير:** يعنى که د الله تعالىٰ له رحمته برخه اخيستل غواړئ نو تاسى هم د هم هغو مقبولو بندګانو په شان حسنه اعمال ځان ته اختيار کړئ! ـ چه د لمونځونو په ښه شان سره قائمول ـ د زکوٰة ورکول دی او د حيات په تولو شعبو کښى د رسول الله صلى الله عليه وسلم پر احکامو تلل دی.

**اللهم ارزقنا متابعة رسولک صلى الله عليه وعلىٰ آله واصحابه وسلم وتوفنا عليها والحقنا بالصالحين آمين!**

لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مُعْجِزِيْنَ فِي الْأَرْضِ ۚ وَمَأْوٰىهُمُ النَّارُ ۖ وَلَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿٥٧﴾

مه کوه گمان خامخا پر هغو کسانو چه کافران شوی دی عاجز کوونکی (د الله) په ځمکه کښې او ځای د هستوګنی د دوی اور (د دوزخ) دی او خامخا بد ځای د ورتلو دی (دا دوزخ).

**تفسیر:** دغه د نیکو بندګانو په مقابل کښې ئې د مردود او مغضوبو خلقو انجام او خاتمه ښوولی ده یعنی کله چه نیکانو ته د ملک حکومت او د ځمکی خلافت عطاء کیږی نو د کافرانو او بدکارانو ګردی (تولی) مکاری او تدابیر ماتیږی او ماته ئې ور په برخه کیږی ـ د الله تعالیٰ د ارادی مخه هیڅ څوک نشی نیولی ـ که دوی په ګرده (توله) دنیا کښې دی خوا او هغی خوا ته منډی ووهی ـ او هر چیری لاړ شی او وځغلی ـ نو بیا هم د الله تعالیٰ له سزا او پوښتنی څخه ځان نشی پتولی او خلاصولی ـ او یقیناً دوی د جهنم په بندی خانه کښې غورځول کیږی.

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِيَسْتَأْذِنْكُمُ الَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ

ای هغو کسانو چه ایمان ئې راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو!) ښائی چه اذن دی وغواړی له تاسی (په وقت د ننوتلو) کښې پر تاسی باندی) هغه (وینځی مریان خدام) چه مالکان شوی وی د هغو ښی لاسونه د تاسی

**تفسیر:** څلور رکوع پخوا له دی نه د استیذان (اجازه غوښتلو) د مسئلی ذکر ؤ دا د هغه تتمه ده په منځ کښې د ځینو خاصو مناسباتو لامله (له وجی) نور مضامین راغلی ؤ.

وَالَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ مِنْكُمْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ۚ مِنْ قَبْلِ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَحِينَ تَضَعُونَ ثِيَابَكُمْ مِنَ الظَّهِيرَةِ وَمِنْ بَعْدِ صَلَاةِ الْعِشَاءِ ۚ ثَلَاثُ عَوْرَاتٍ لَكُمْ ۚ

او هغه کسان چه نه دی رسیدلی حد د (احتلام بلوغ) عقل ته له تاسی (احرارو) دری کرته پخوا له لمانځه د صبا او په هغه وقت کښې چه پاسئ بردئ تاسی کالی (جامی) خپل د غرمی په وقت کښې او پس له لمانځه د ماسختن (دغه اوقات) دری وقتونه د خلل (پیښیدو د ستر) دی تاسی ته

**تفسیر:** په هم دغو دوو اوقاتو کښې عموماً زائد کالی (جامی) له ځانه لری کیږی یا د خوب

او د وینئی لباس سره تبدیلیږی او مروښی زیاتره په هم دغو اوقاتو کښی کاوه شی کله پخوا له سهاره کله د غرمی د لمبلو شوق یا ضرورت چه هم انسان ته پیښیږی او دا غواړی چه بل څوک پری مطلع او خبر نشی نو څکه ئی حکم ورکړ چه په دغو دریو اوقاتو کښی نابالغو هلکانو وینځو او مریانو ته هم ښائی چه د ننوتلو اجازه واخلی په نورو اوقاتو کښی دوی ته نه ښائی چه د نورو پردیو په شان اجازه وغواړی مگر که کوم شخص د خپلو مصالحو لامله (له وجی) په نورو اوقاتو کښی هم د استیذان قید زیات کړی نو دلته استجازه ضروری ده.

لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلَا عَلَيْهِمْ جُنَاحٌۢ بَعْدَهُنَّ ۚ طَوَّٰفُونَ عَلَيْكُم بَعْضُكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۚ

نشته پر تاسی او نه پر دوی باندی هیڅ گناه (وبال) تیر له دغو دریو وقتونو (په بی اذن ننوتلو د دوی کښی پر تاسی) دوی گرځیدونکی دی پر تاسی (په تللو او ننوتلو لپاره د خدمت) ځینی ستاسی پر ځینو نورو (گرځیدونکی یئ یو په بل)

**تفسیر:** یعنی د پورته ذکر شویو اوقاتو څخه ماسواء په نورو اوقاتو کښی عادتاً بی له مزاحمته او ممانعته یو له بل سره کتلی شئ! او په دغو تللو راتللو کښی نابالغو هلکانو ـ وینځو او مریانو ته لازم نه دی چه د هر واری ننوتلو دپاره اذن او اجازه وغواړی څکه چه د دی شیانو له رعایته ډیر تکلیف او حرج پیښیږی او په کارونو او معاملاتو کښی ډیر بندوالی او حرج واقع کیږی چه هغه د الله تعالیٰ له حکمته خلاف دی.

كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلْـَٔايَٰتِ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٥٨﴾ وَإِذَا بَلَغَ ٱلْأَطْفَٰلُ مِنكُمُ
ٱلْحُلُمَ فَلْيَسْتَـْٔذِنُوا۟ كَمَا ٱسْتَـْٔذَنَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمْ
ءَايَٰتِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٥٩﴾ وَٱلْقَوَٰعِدُ مِنَ ٱلنِّسَآءِ ٱلَّٰتِى لَا يَرْجُونَ نِكَاحًا فَلَيْسَ
عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ أَن يَضَعْنَ ثِيَابَهُنَّ غَيْرَ مُتَبَرِّجَٰتٍۭ بِزِينَةٍ ۖ
وَأَن يَسْتَعْفِفْنَ خَيْرٌ لَّهُنَّ ۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٦٠﴾

هم داسی (لکه چه دغه بیان ئی درته وکړ) ښکاره بیانوی الله تاسی ته آیتونه (د احکامو) او الله ښه عالم (په تولو احوالو) ښه حکمت والا دی. او کله چه ورسیدل واړه هلکان (اصیلان) ستاسی حد د (بلوغ) عقل ته پس اذن دی وغواړی (په ننوتلو کښی) پر تاسی باندی لکه چه اذن غوښت هغو کسانو (چه بالغان شوی وو) پخوا له دغو (اطفالو) هم داسی (لکه چه دغه بیان ئی وفرمایه) ښکاره بیانوی الله تاسی ته آیتونه (د احکامو) خپلو او الله ښه عالم (په تولو احوالو) ډیر حکمت والا دی (چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی) او زړی ناستي له ښځو هغو ښځه چه امید نه لری دوی د نکاح (په سبب د ډیر زوړوالی) پس نشته پر دوی هیڅ ګناه (وبال) چه کیږدی (وباسی دوی ظاهری) جامی خپلی (لکه چادری او لوپټی) په دی حال کښی چه ښکاره کوونکی نه وی د ښائست خپل او دا چه دوی ځان وساتي (له ایستلو د ظاهری جامی ښځه هم) خیر دی دوی ته او الله ښه اوریدنکی (د تولو اقوالو) ښه عالم دی (په تولو احوالو).

---

**تفسیر:** یعنی هلکان تر هغه پوری چه نابالغه وی د دغو دریو اوقاتو څخه ماسوا په نورو اوقاتو کښی بلا اجازت ننوتلی شی کله چه د بلوغ حد ته ورسیږی بیا د هغه حکم د همغو نارینه ؤ په شان دی چه د هغو احکام په دغه آیت کښی تیر شول ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَدۡخُلُواْ بُيُوتًا غَيۡرَ بُيُوتِكُمۡ حَتَّىٰ تَسۡتَأۡنِسُواْ وَتُسَلِّمُواْ عَلَىٰٓ أَهۡلِهَا ﴾

حضرت شاه صاحب لیکی «که سپین سری بودی ښځی پخپلو کورونو کښی په لږو ضروریو کالیو (جامو) کښی لکه کمیس پرتوګ تکری اوسیږی نو درست دی او که په پوره پرده کښی واوسی نو لا بهتر دی» او کله چه له کوره د باندی وځی که زائد کالی (جامی) مثلاً برقع او نور له خپله ځانه لری کړی نو هیڅ مضائقه نه لری په دی شرط سره چه په هغو کالیو (جامو) د زینت اظهار نه وی چه د هغی د پټ ساتلو حکم د ﴿ وَلَا يُبۡدِينَ زِينَتَهُنَّ ﴾ الآیة ـ په آیت کښی ورکړی شوی دی له دی نه د دی خبری اندازه په ښه شان سره کیدی شی چه قرآن کریم د ځوانانو ښځو د پردی او ستر په متعلق څه منشأ لری؟ یعنی دغه خو د فتنی مخی نیولو او انسداد ظاهری انتظامات دی پاتی شوی هغه خبری چه د پردی په منځ کښی کیږی ـ او د فتنی عوامل او اسباب تری څیږیږی (پیدا کیږی) نو ښه وپوهیږئ چه الله تعالیٰ د ګردو (تولو) خبری آوری ـ او پر هر شی ښه خبردار دی او سم له هغو به د هر چا سره معامله کوی.

---

لَّيۡسَ عَلَى ٱلۡأَعۡمَىٰ حَرَجٞ وَلَا عَلَى ٱلۡأَعۡرَجِ حَرَجٞ وَلَا عَلَى ٱلۡمَرِيضِ حَرَجٞ

وَلَا عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ اَنْ تَاْكُلُوْا مِنْۢ بُيُوْتِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ اٰبَآئِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ
اُمَّهٰتِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ اِخْوَانِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ اَخَوٰتِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ اَعْمَامِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ
عَمّٰتِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ اَخْوَالِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ خٰلٰتِكُمْ اَوْ مَا مَلَكْتُمْ مَّفَاتِحَهٗٓ
اَوْ صَدِيْقِكُمْ ؕ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَاْكُلُوْا جَمِيْعًا اَوْ اَشْتَاتًا ؕ
فَاِذَا دَخَلْتُمْ بُيُوْتًا فَسَلِّمُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ
مُبٰرَكَةً طَيِّبَةً ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿٦١﴾

نشته پر ړانده هيڅ حرج (مشقت) او نه پر ګوډ هيڅ حرج (محنت او وبال) او نه پر رنځور هيڅ حرج (سختی او ملامتی) او نشته پر نفسونو ځانونو ستاسی هيڅ حرج (کلفت) چه وخورئ تاسی (او دا تير اهل د ابتلا) له کورونو خپلو (يا له کورونو د اولادو او عيالو خپلو) يا له کورونو د پلرونو خپلو يا له کورونو د ميندو خپلو يا له کورونو د ورونو خپلو يا له کورونو د خويندو خپلو يا له کورونو د ترونو خپلو يا له کورونو د عمو (ترورياتو) خپلو يا له کورونو د ماماګانو خپلو يا له کورونو د خالو (توريانو) خپلو يا (له کورونو د هغه چا) چه مالکان شوی يئ تاسی د کليګانو (کنجيانو) د هغه (او د هغو متصرفان يئ يا (له کورونو د) دوستانو خپلو، نشته پر تاسی هيڅ ګناه (وبال) په دی چه وخورئ (طعام تول) سره يو ځای يا بيل بيل نو کله چه ننوځئ تاسی (دغو مذکوره‌ؤ) کورونو ته پس سلام اچوئ تاسی پر ځانونو خپلو پيشکشی ده ثابته له (جانبه د) الله مباركة طيبة (برکتناکه پاکيزه) هم داسی (لکه چه دغه تير بيان ئی وفرمايه) ښکاره بيانوی الله تاسی ته آيتونه (د حکمت او احکام خپل) ښائی چه تاسی عقل وچلوئ (په خير او شر).

**تفسير:** يعنی د هغو کارونو له کولو څخه دغه اهل الابتلاء معاف دی چه پکښی تکليف وی مثلاً جهاد ـ حج ـ جمعه او جماعت او نور داسی شيان **(كذا فی الموضح)**
يا ئی دا مطلب دی چه د دغو معذورانو محتاجانو په خوراک کښی له روغو خلقو سره هيڅ تکليف او حرج نشته ځکه چه د جاهليت په زمانه کښی به ئی داسی محتاجان او معذوران نه

پریښوول چه له اغنیاؤ او روغو خلقو سره دوډی وخوری د دوی په زړه کښی به داسی خبری ګرځیدی چه البته دغه خلق له دی نه کرکه او نفرت کوی چه له مونږه سره ډوډی وخوری یا ځمونږ له ځینو اوضاعو او حرکاتو ځخه لکه چه دوی ته ایذاء او ضرر وررسیږی ـ او په واقع سره چه ځینو ته له دی نه نفرت او وحشت هم پیدا کیده ځینو مسلمانانو ته له ډیری اتقاء داسی خیال پیدا کیده چه د داسی معذورانو او مریضانو سره په یو ځای خوراک کولو کښی شاید د مساوات او عدل اصول قائم پاتی نشی ږوند د خوراک ګرد (تول) شیان نشی موندلی ـ ګوډ امکان لری چه په ځند (تاخیر) سره راشی او په مناسب ځای کښی نشی کیناستی د رنځورانو خبره خو د خوځولو نه ده ـ نو بناء علیه له هغوی سره ئی په یو ځای کیناستلو کښی احتیاط کاوه ځو د دوی حق تلف نشی ـ بل یو داسی صورت هم پیښیده چه دغه معذور او محتاج سړی به چه د چا کره ورته چه هغه به په دی نه ؤ مقتدر چه دومره محتاجانو ته پخپله خوراک ورکری نو به ئی بی تکلفه دوی د خپل پلار ـ ورور ـ خور ـ تره ماما او نورو خپلوانو کره بوتلل ـ نو د دغه وضعیت له لیدلو ځخه به دغو معذورانو ته داسی خیال پیدا کیده چه مونږ خو د ده کره راغلی وو ده مونږ واخیستلو او له خپله کوره ئی وشړلو ـ لکه پخپله ځمونږ د ډوډی ورکولو ځخه کرکجن (متنفر) او ناخوښه دی؟ د دغو ګردو (تولو) خیالاتو اصلاح په دغه آیت سره وکړه شوه چه تاسی ته خامخا نه ښایی چه په دغسی اوهامو او خیالاتو کښی خپل ځانونه وغورځوئ ـ پاک الله په دغه معامله کښی وسعت ایښی دی نو بیا تاسی ولی پر خپلو ځانونو تنګسه او تکلیف راولئ؟

﴿ اَوْمَامَلَكْتُمْ مَّفَاتِحَهٗٓ ﴾ یا چه وخورئ له کورونو د هغه چا چه مالکان شوی یئ تاسی د کلیګانو (کنجیګانو) د هغو او د هغو متصرفان یئ) یعنی ستاسی تر تصرف لاندی ایښی شوی دی. مثلاً یو سړی بل سړی د خپل شی وکیل یا محافظ ګرځوی او دی که له هغه ځخه څه شی د معروف په کومه اندازه خوری او ښښی نو مجاز دی.

﴿ لَيْسَ عَلَيْكُمْ ﴾ الآیة ـ نشته پر تاسی هیڅ ګناه وبال په دی چه وخورئ طعام تول سره یو ځای او یا بیل بیل) یعنی د خپلوی په علائقو کښی د خوراکی شیانو د هر وقت د پوښتنی کولو هیڅ ضرورت نشته. نه ښائی چه خوږونکی وشرمیږی او حجاب وکړی ـ او نه کوربه دی څه تری وساتی مګر د ښځی کور که د هغی د میړه (خاوند) وی نو ښائی چه د هغه خوښی او مرضی حاصله کړی. او یو ځای سره خوری! یا بیل ـ یعنی د دغی خبری فکر او اندیښنه پخپلو زړونو کښی مه کوئ چه چا زیاته وخوړله؟ او کوم یوه لږه وخوړله ګرد (تول) سره خپل خواړه دی یو ځای پخوی او ګرد (تول) دی سره یو ځای خوری. که د یوه سړی مرضی نه وی نو بیا د هیچا د هیڅ شی خوراک نه دی درست.

د سلام اچولو تقیید ئی وفرمایه د ملاقات په وقت کښی ځکه چه له دی نه بله کومه ښه دعاء نشته. هغه خلق چه سلام نه اچوی او د هغه په ځای نور الفاظ له خپله ځانه جوړوی یا د نورو پردیو اقوامو او مللو تقلیدونه کوی نو د دوی دغه تجاویز او تقالید له سره د الله تعالیٰ له دغه

حکمه او تجویزه نشي بهتر کیدی.

**تنبیه:** له دغه آیت څنی د یواځی خوراک کولو جواز هم ووت د ځینو حضراتو په نسبت ئی لیکلی دی تر څو چه د هغوی سره به میلمانه نه ؤ دوی به خوراک نه خوړ معلوم شو چه دغه غلو دی هو! که څو تنه خوړونکی سره یو ځای کښینی نو دغسی خوراک د برکت موجب دی کما ورد فی الحدیث.

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَإِذَا كَانُوا مَعَهُ عَلَىٰ أَمْرٍ جَامِعٍ لَّمْ يَذْهَبُوا حَتَّىٰ يَسْتَأْذِنُوهُ ۚ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَأْذِنُونَكَ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ۚ فَإِذَا اسْتَأْذَنُوكَ لِبَعْضِ شَأْنِهِمْ فَأْذَن لِّمَن شِئْتَ مِنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمُ اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٦٢﴾

بیشکه هم دا خبره ده چه مؤمنان هغه کسان دی چه ایمان یقین ئی راوړی دی پر الله او (په) رسول (د الله) او کله چه وی دوی له دغه (رسول) سره پر کوم کار جمع کوونکی د(خلقو لکه جمعه ـ جهاد یا جرګه) نو نه ځی (پخپل سر) تر هغه پوری چه اذن وغواړی له دغه (رسول الله) نه بیشکه هغه کسان چه اذن غواړی له تانه (ای محمد رسوله) دوی هغه کسان دی چه کامل ایمان یقین لری پر الله او رسول د الله (او منی ئی) پس کله چه اذن وغواړی دوی له تانه (ای رسوله محما تللو ته) دپاره د ځینو کارونو خپلو پس اذن ورکړه هغه چاته چه خوښه وشی ستا له دوی نه (د اذن ورکولو) او مغفرت وغواړه د دوی دپاره له الله تعالیٰ بیشکه الله ښه ښښونکی (د خطیاتو) ډیر رحم والا دی (په انعام د اجر او ثواب سره).

**تفسیر:** په پاس آیتونو کښی د راتللو په وقت کښی د استیذان (اجازه غوښتلو) ذکر ؤ ـ دلته د بیرته ورتلو په وقت د استیذان ضرورت ښوولی شوی دی ـ یعنی پوره ایمان لرونکی هغه دی چه د محمد رسول الله په غوښتلو سره ژر حاضریږی ـ او کله چه په کوم اجتماعی کار کښی شریک او ملګری شی لکه جمعه ـ عیدین ـ جهاد ـ د مشوری مجالس او نور نو بی له اجازی تری نه ځی او په خپل سر تری نه پاځیږی هم دغه کسان هغه ذوات دی چه په کامل او صحیح معنی سره د الله تعالیٰ او د رسول الله احکام منی او د دوی پوره مطیعان دی.

﴿ فَإِذَا اسْتَأْذَنُوكَ ﴾ الآیة ـ پس کله چه اذن وغواړی دوی له تانه ای محما رسوله تلو ته دپاره د

ځينو کارونو خپلو پس اذن ورکړه هغه چاته چه خوښه وشي ستا له دوی نه د اذن ورکولو الخ) يعني وروسته له غوره او فکره هر چاته چه مناسب وګڼئ اجازت ورکړئ! او کله چه په دغه اجازه عمل کول هم في‌الجمله د نبوی صحبت حرمان او قصور او صورتاً د تقديم‌الدنيا علی الدين شائبه پخپل منځ کښې لري نو ځکه ئې د هغو مخلصينو په حق کښې استغفار وفرمايه څو ستاسی د دغه استغفار په برکت د هغوی د دغه نقص علاج او تدارک هم وشي.

لَا تَجْعَلُوا دُعَآءَ الرَّسُولِ بَيْنَكُمْ كَدُعَآءِ بَعْضِكُم بَعْضًا ۚ قَدْ يَعْلَمُ اللَّهُ الَّذِينَ يَتَسَلَّلُونَ مِنكُمْ لِوَاذًا ۚ فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِۦٓ أَن تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٦٣﴾

مه ګرځوئ (مه ګڼئ ای مؤمنانو! بلنه) دعاء د رسول پخپلو منځونو کښې پشان د دعاء (بلنې) د ځينو د تاسی ځينو نورو ته) بلکه د رسول د بلنې اجابت ضرور وکړئ) په تحقيق معلوم دی الله ته هغه کسان (هم) چه کښيږی او يو يو دوه دوه پټ د باندی وځی له تاسی په دی حال چه يو له بله ځان سره پنا کوی او وځی پس ودی ويريږی هغه کسان چه مخالفت کوی له امره (حکمه) د دغه (رسول ځما) له دی نه چه ورسيږی دوی ته څه فتنه (آفت په دنيا کښې) يا ورسيږی دوی ته عذاب دردناک په آخرت کښې).

**تفسير:** يعني د رسول الله صلی الله عليه وسلم پر غوښتلو حاضر کيدل فرضيږی ځکه چه د رسول الله غوښتل د نورو د غوښتلو په شان نه دی او ښائی چه تل د رسول الله صلی الله عليه وسلم د دعوت جواب په «لبيک» سره ووائی. که د رسول الله صلی الله عليه وسلم په دعوت نه حاضريږی نو ښائی چه د دوی له ښيرا څخه وويريږی ځکه چه د دوی ښيرا د نورو انسانانو په شان نه ده او په مخاطباتو کښې دی هم د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ادب او د عظمت او عزت پوره لحاظ او رعايت وکړ شي او د نورو عوامو خلقو په شان «يا محمد» يا نورو عادی الفاظو سره دی خطاب ور نه کړ ای شي بلکه د«يانبی‌الله »-«يا رسول‌الله!» په‌شان تعظيمی القابو سره‌دې مخاطب وګر ځولی شي. حضرت شاه صاحب فرمائی چه «د رسول الله صلی الله عليه وسلم په بلنه سره حاضريدل فرضيږی» د هر هغه کار دپاره چه دوی وغواړی بيا دا هم ورسره شته چه بی د دوی له اجازی له هغه ځايه پاڅيدل او بل چيری تلل هم نه دی په کار اوس هم ځمونږ مسلمانانو دپاره هم دغه خبره وړ (قابله) او لائقه ده چه د خپلو مشرانو په مقابل کښې د هم دغسی وضعيت رعايت وکړو. دغه کسان چه د نبوی له مجلسه د باندی وتل هغه منافقان ۇ چه پر دوی پند او نصيحت اوريدل ډير سخت او شاق ۇ ـ هر کله چه دوی موقع موندله سترګی به يی غولولی ـ او ښوی بی له اجازی له مجلس څخه د باندی تښتيدل ـ نو دوی به هم خپل ځان له هغه سره نښلاوه. يا د

ده په سیوری کښې به ئې خپل ځان ښوی تیراوه ـ نو د دې په نسبت داسې فرمائې چه تاسې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه خپل ځان پټوئ پاک الله ته خو ستاسې ګرد (ټول) حال احوال هم معلوم دی. ﴿ فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ ﴾ پس ودې ویریږی هغه کسان چه مخالفت کوی له امره حکمه د دغه رسول ځما له دی نه چه وبه رسیږی دوی ته څه فتنه آفت په دنیا کښې یا وبه رسیږی دوی ته عذاب دردناک په آخرت کښې) یعنې د الله تعالیٰ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له احکامو څخه مخالفت کوونکی ته خوف او ویره په کار ده چه د دوی په زړونو کښې د کفر او نفاق او د نورو فتنو نیالګی (جرړی) د تل دپاره بیخ او بنسټ (بنیاد) ونه نیسی او د هغه لامله (له وجې) د دنیا په کوم دردناک عذاب کښې اخته او مبتلا نشی.

أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ قَدْ يَعْلَمُ مَآ أَنتُمْ عَلَيْهِ وَيَوْمَ يُرْجَعُونَ إِلَيْهِ فَيُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا۟ ۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌۢ ﴿٦٤﴾

واورئ خبردار او پوه شئ چه بیشکه خاص الله لره دی هر هغه څه چه په آسمانونو او ځمکو کښې دی (سره له آسمانونو او ځمکې ملکاً خلقاً و عبیداً (په تحقیق معلوم دی) (الله ته) هر هغه څه چه تاسې پرې یئ (له اخلاصه او نفاقه) او (معلومه ده الله ته) هغه ورځ چه وروستل شی (دغه خلق) الله ته پس خبردار به کړی (الله) دوی پر هغو عملونو چه دوی کړی دی (له خیر او له شره) او الله پر هر څیز باندی ښه عالم دی.

**تفسیر:** یعنې ممکن دی چه د مخلوق له سترګو څخه په پټه کوم کار وکړئ ـ لیکن د الله تعالیٰ څخه ستاسې هیڅ حال او احوال نشی پټ پاتی کیدی او نه د الله تعالیٰ له آسمانونو او له ځمکو څخه چیری وتلی او تښتیدلی او پټیدلی شئ ـ الله تعالیٰ همغسې چه ستاسې له دغه موجوده حالت څخه عالم او باخبر دی هم داسې د هغی ورځې له مجازاتو څخه هم پوره عالم او خبردار دی کله چه ګرد (ټول) مخلوقات به د حساب او کتاب دپاره د ده په لوری بیول کیږی ـ او د دوی د هر یوه په مخ کښې به د ده د یوی یوی ذری عمل حساب او کتاب په واضح او ښکاره ډول (طریقه) ایښود کیږی نو د داسې علیم‌الکل او مالک‌الکل له سزا څخه به مجرم چیری نجات وموندلی شی؟.

تمت سورة النور بفضل الله وتوفیقه

اللهم نور قلوبنا بالایمان والاحسان ونور قبورنا

واتمم لنانورناواغفرلنا

انک علیٰ کل شیٔ قدیر ـ وبالاجابة جدیر

سورة الفرقان مكية الا الايات ٦٨ و ٦٩ و ٧٠ فمدنية وهی (٧٧) آية و (٦)
ركوعات رقمها (٢٥) تسلسلهاحسب النزول (٤٢) نزلت بعد يٰسٓ .
د «الفرقان» سورت مكی دی پرته (علاوه) له ٦٨ ؤ ٦٩ ؤ ٧٠ آيتونو نه چه مدنی دی (٧٧) آيتونه (٦) ركوع
لری، په تلاوت كښی (٢٥) په نزول كښی (٤٢) سورت دی وروسته د «يٰسين» له سورته نازل شوی دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع) په نامه د الله چه خورا (ډير) مهربان ډير رحم والا دی

تَبٰرَكَ الَّذِيْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلٰى عَبْدِهٖ لِيَكُوْنَ لِلْعٰلَمِيْنَ نَذِيْرًا ﴿١﴾

ډير بركتناک څيښتن (خاوند) د ډير خير او پورته دی هغه (ذات) چه نازل كړی ئی دی قرآن پر بنده خپل (محمد) دپاره د دی چه شي دی خلقو ته ويروونكی (له جحيمه)

**تفسير: «فرقان»** (د فيصلی كتاب) ئی وفرمايل دغه قرآن ته چه د حق او باطل آخری فيصله او د حلالو او حرامو سره بيلتون په ښكاره ډول (طريقه) سره كوی ـ هم دغه كتاب دی چه د خپل نازل كوونكی د شان عظمت او د صفاتو علويت او د هغه د اعلیٰ درجی حكمت او رافت په انتهائی شكل كښی وراندی كوی او د ګرد (تول) جهان د هدايت او اصلاح متكفل او دوی ته د كثير خير او د غير منقطع بركاتو د اعطاء سامان او وسائل تيار كړی دی.
(ډير بركتناک څيښتن (خاوند) د ډير خير او پورته دی هغه ذات چه نازل كړی راليږلی ئی دی فرقان حميد او قرآن مجيد لپاره د هدايت پر خپل هغه كامل او اكمل بنده محمد صلی الله عليه وسلم باندی چه د ده ممتاز لقب د عبوديت له كماله هم دغه «عبد الله» شوی دی صلوٰة الله عليه وسلامه لپاره د دی چه شي دغه قرآن مجيد خلقو ته انسانان دی كه پيريان ويرونكی له عذابه د نيران) يعنی قرآن عظيم الشان ګرد (تول) جهان ته د كفر او عصيان له بدی خاتمی خبر وركوونكی دی لكه چه په دغه سورت كښی «د مكذبينو» او معاندينو ذكر ډير شوی دی ښائی د هغه له خاطره دلته د «نذير» صفت ئی بيان فرمايلی وی او «بشير» ئی نه دی ياد كړی او د «للعالمين» په لفظ سره ئی دا راښكاره كړی دی چه دغه قرآن يوائځی د عربو اميونو ته لكه چه ځينی خلق وائی نه دی نازل شوی بلكه د ګردو (تولو) پيريانو او انسانانو د هدايت او اصلاح دپاره نازل شوی دی.

الَّذِیْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلَمْ یَتَّخِذْ وَلَدًا وَّلَمْ یَكُنْ لَّهٗ شَرِیْكٌ فِی الْمُلْكِ وَخَلَقَ كُلَّ شَیْءٍ فَقَدَّرَهٗ تَقْدِیْرًا ﴿۲﴾

هغه (الله) چه خاص هم ده ته دی ملک سلطنت د آسمانونو او د ځمکی او نه ئی دی نیولی هیڅ ولد او نشته ده ته شریک (مل) په ملک سلطنت کښی او پیدا کړی دی الله هر شی پس په اندازه کړی ئی دی هغه (شی) په اندازه کولو سره.

**تفسیر:** (یعنی جنس - نوع - قد - رنگ - خوی - عمر - اجل - عمل - رزق - حیات - ممات - مکان - زمان - او نور او دا ټول ئی په یوه مقدار لیکلی دی په لوح محفوظ کښی او) هر څیز ئی په یوه خاصه اندازه او هیئت سره ایښی او پیدا او تیار کړی دی چه له هغو څخه همغه خواص او افعال ظاهریږی چه د هغوی دپاره همغه پیدا شوی دی او هیڅ یو څیز له خپلی دائری څخه د باندی قدم نشی کیښودی او نه په خپلو حدودو کښی د عمل او تصرف د فطری موزونیت په لحاظ د لږ څه تزئید او تنقیص ځای پکښی شته او نه د هغه په کوم وصف او خصوصیت کښی د اعتراض او ګوتی کیښودلو موقع شته د سائنس لوی لوی پوهان د ده د حکمت په سیندونو کښی غوټی وهی خو په پای (اخر) کښی دوی په دغه وینا سره مقر او معترف کیږی ﴿ صُنْعَ اللّٰهِ الَّذِیْۤ اَتْقَنَ كُلَّ شَیْءٍ ﴾ او ﴿ فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخٰلِقِیْنَ ﴾

وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖۤ اٰلِهَةً لَّا یَخْلُقُوْنَ شَیْـًٔا وَّهُمْ یُخْلَقُوْنَ وَلَا یَمْلِكُوْنَ لِاَنْفُسِهِمْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا وَّلَا یَمْلِكُوْنَ مَوْتًا وَّلَا حَیٰوةً وَّلَا نُشُوْرًا ﴿۳﴾

او نیولی دی دغو (کفارو) بی له الله نور معبودان چه نشی پیدا کولی (دغه معبودان) هیڅ شی حال دا چه دوی پخپله پیدا کول شی او نه دی مالکان دپاره د ځانونو خپلو د ضرر (د دفع کولو) او نه د نفعی (د رسولو) او نه دی مالکان په وژلو د چا او نه په ژوندی کولو د چا او نه په بیا ژوندی پورته کولو د مړیو (له قبورو بعث ته).

**تفسیر:** یعنی د څومره ظلم او تعجب او حیرت مقام دی چه د داسی مطلق قادر مالک الکل علی‌الاطلاق حکیم - او زبردست وجود بس او کافی نه ګڼی او خپلو ځانونو ته د نورو معبودانو

او حاکمانو تجویزونه کوی او داسی تصور کوی چه ګواکی دوی هم د الله تعالیٰ په حکومت کښې د برخې خاوندان دی حال دا چه د هغو بیچارګانو خپل وجود هم له خپله کوره نه دی او نه پر خپل ځان د تصرف او اختیار خاوندان دی او نه د کومې ذرې شی د پیدا کولو واک او اختیار لری ـ او نه ژوندی کول او وژل د دوی په قبضه او واک (اختیار) کښې دی ـ او نه په خپل مستقل اختیار سره چاته لږ څه نفع یا نقصان رسولی شی ـ بلکه د خپلو ځانونو دپاره هم د یوې ذرې په برابر د ګټې (فائدې) د حاصلولو یا له نقصان څخې د ځان ساتلو هم قوت او قدرت نه لری ـ نو د داسې ضعیفو ـ عاجزو او مجبورو شیانو د الله تعالیٰ شریک بلل څومره لوی سفاهت او انتهائی بیحیائی ده (ربط) دغه خو د قرآن د نازلوونکی د صفاتو او د شیونو ذکر ؤ ـ او د هغه په نسبت د هغو بی تمیزیو چه مشرکانو کولی تردید ؤ ـ وروسته له دی نه پخپله د قرآن مجید په نسبت او د قرآن کریم د حامل په نسبت د سفهاؤ او ناپوهانو د اعتراضاتو او تنقیداتو جواب ورکوه کیږی.

---

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اِفْكُ ۨافْتَرٰىهُ وَاَعَانَهٗ عَلَيْهِ قَوْمٌ اٰخَرُوْنَ ۚ فَقَدْ جَاۗءُوْ ظُلْمًا وَّزُوْرًا ④

---

او وائی هغه کسان چه کافران شوی دی چه نه دی دا (قرآن) مګر دروغ دی چه له ځانه ئی جوړ کړی دی دغه (محمد) او کومک ورسره کړی دی په دی (دروغ جوړولو کښې) قومونو نورو (نو فرمائی الله) پس په تحقیق راتلل کړی دی (دغو کفارو) په ظلم او په دروغو سره.

---

**تفسیر:** (یعنی کافران وائی چه نه دی دغه قرآن چه راوړی دی محمد صلی الله علیه وسلم مګر خو دروغ دی او) دغه ګردی (تولی) تشی د خولی خبری دی چه قرآن د الله تعالیٰ کتاب دی معاذ الله محمد صلی الله علیه وسلم د څو تنو یهودانو په مدد یو کلام تیار کړی دی او هغه له خپله ځانه جوړ کړی دروغ ئی د الله تعالیٰ په طرف منسوب کړی دی بیا د هغه په اشاعت ئی لاس پوری کړی دی بس تول حقیقت ئی هم دغومره دی.

(نو پاک الله د دغو کفارو په تردید فرمائی ﴿ فَقَدْ جَاۗءُوْ ظُلْمًا وَّزُوْرًا ﴾ پس په تحقیق راتلل کړی دی دغو کفارو په ظلم او په دروغو سره) یعنی له دی نه به لوی ظلم او دروغ نور څه وی چه داسی معجز کلام او حکیم کتاب ته چه د هغه عظمت او صداقت له امر څخه زیات روښان دی کذب او افتراء وویل شی ـ آیا د څو تنو یهودی غلامانو چه هغه هم عجمیان دی په مدد سره د داسی عمده کلام جوړول امکان لری؟ چه د هغه په مقابل کښې د دنیا تمام فصحاء ـ حکماء ـ بلکه ګرد (تول) پیریان او انسانان د ډیرو لویو لویو عالی دماغو عقلاؤ او حکماؤ سترګی خیری

او تیتی (خري او خکته) کړي.

وَقَالُوٓا۟ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ٱكْتَتَبَهَا فَهِىَ تُمْلَىٰ عَلَيْهِ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ﴿٥﴾

او وائي (کفار) دا قصې دي د ړومبنيو خلقو چه ليکلي دي هغه (محمد) پر ليکونکو پس هغه لوستل کيږي په ده (لپاره د ليکلو) صبا او بيگاه.

**تفسير:** يعنې کفارو به داسې گڼل چه محمد صلی الله عليه وسلم له اهل الکتاب څخه څه قصې او خبرې اوريدلې دي او د هغو ياداشت ئې نيولي دي، يا په بل چا باندې ئې د هغو ياداشت اخيستي دي چه هم هغه ياداشتونه شپه او ورځ د ده په مخ کښې براته دي او يادوي ئې ـ او بيا ئې په نويو نويو اساليبو اړوي راړوي، نور هيڅ شي نه دي. حضرت شاه صاحب ليکي «ړومبي د دوو وقتونو صبا او بيگا لمونځونه مقرر ؤ ـ مسلمانان هم د رسول الله صلی الله عليه وسلم په حضور کښې په هم دغو دوو وقتونو کښې سره توليدل او هغه نوی قرآن به ئې چه نازل شوی ؤ تري يادوه او ليکل به ئې چه تري هير نشي هم دغو ليکلو ته کفار داسې وائي او په دغه اسلوب سره ئې اداء کوي نو فرمايي الله تعالیٰ عظم برهانه وجل وعلا شانه په ترديد د دغو کفارو کښې داسې چه

قُلْ أَنزَلَهُ ٱلَّذِى يَعْلَمُ ٱلسِّرَّ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٦﴾

ووايه (اې محمده دغو کفارو ته نه ده داسې بلکه) نازل کړی دی دا قرآن هغه (الله) چه عالم دی په هرو پټو چه په آسمانونو او په ځمکه کښې دي بيشکه چه الله دی ښه مغفرت کوونکی (د خطياتو) ډير رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره).

**تفسير:** يعنې دغه پاک قرآن پخپله راښيي چه هغه د کوم انسان يا د کومې تولنې له خوا جوړ شوی دی؟ که نه دی؟ داسې نه دی چه تاسې وايئ بلکه دغه عظيم‌الشان قرآن پخپله دا خبره ثابتوي چه دغه د هم هغه الله تعالیٰ له جانبه نازل شوی دی چه د ده د علمي احاطې څخه د آسمانونو او د ځمکو هيڅ يو شي نشي خارجيدلی. د ده معجز کلام ـ فصاحت او بلاغت ـ علوم او معارف ـ غيبيه اخبار ـ احکام او قوانين ـ او هغه مکنونه اسرار چه د هغو اعماقو او زاوياؤ ته هيڅوک بې د الله تعالیٰ له توفيقه نشي رسيدلی او گرد (تول) عقول او افهام د هغو له

پوهی عاجز او ناتوانه دی پخپله الله تعالیٰ دغه خبره صافه څرګندوی چه دغه د کوم محدود علم والا انسان بیان یا د کوم جعلی جمعیت کلام نه دی (بلکه) دغه قرآن ئی پخپل بخشش او مهربانی سره نازل کړی دی (موضح القرآن) بیا هغه کسان چه له داسی واضح او روښان حقیقت څخه منکران دی نو الله تعالیٰ سره له دی چه د دوی د ګردو (تولو) جرائمو څخه مفصلاً خبر دی او فوراً دوی ته سزا نه ورکوی نو دغه هم د ده د بښنی او مهربانی اثر دی.

وَقَالُوا مَالِ هٰذَا الرَّسُولِ يَأْكُلُ الطَّعَامَ وَيَمْشِي فِي الْأَسْوَاقِ لَوْلَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مَلَكٌ فَيَكُونَ مَعَهُ نَذِيرًا ۝ أَوْ يُلْقَىٰ إِلَيْهِ كَنْزٌ أَوْ تَكُونُ لَهُ جَنَّةٌ يَأْكُلُ مِنْهَا ۚ وَقَالَ الظَّالِمُونَ إِنْ تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَسْحُورًا ۝۸

او وائی (کفار) چه څه دی دغه رسول ته چه خوری طعام او ګرځی په بازارونو کښی (لکه نور خلق دپاره د طلب د معاش) ولی نه نازلاوه شی ده ته یو ملک چه پس شی دغه (ملک) له دغه (رسول) سره ویروونکی (د کفارو له جحیمه) یا (ولی نه) غورځولی کیږی ده ته خزانه (له آسمانه) یا (ولی نه) کیږی ده ته یو باغ چه خوری له( میوو او حاصلاتو د) هغه او وائی (دغه) ظالمان (مؤمنانو ته) چه متابعت نه کوئ تاسی مګر د یوه سړی چه سحر پری کړی شوی دی (او مغلوب العقل دی).

**تفسیر:** یعنی کفارو به دغسی ویل کله چه دغه د نبوت مدعی څمونږ په شان دودی خوری او څمونږ په شان د بیع او شری (پیرودلو او پلورلو) دپاره بازارونو ته ځی ـ نو څمونږ او د ده په منځ کښی څه فرق او توپیر (تفاوت) پاتی شو؟ که دی په رښتیا سره رسول وی نو ښائی د پرښتو په شان له خوراکونو او له څښلو او د دنیوی معاشونو له جګړو او جنجالونو څخه لری او خلاص وی.

یعنی که د پرښتو فوځونه ورسره نه وی نو اقلاً د پاک الله له طرفه یوه دوه پرښتی خو تش د ده د تصدیق او د رعب او داب قائمولو دپاره د ده سره تل ګرځیدی او اوسیدی چه د هغی د لیدلو څخه به هرومرو (خامخا) خلق ورته متمائل کیدل. دا څرنګه د بیچارګی او یواځیتوب په حالت کښی پخپل وچ سر د داسی غتی خبری دعوی کوی؟ ښه که پرښتی د ده سره نشته نه دی وی ـ خو له دی دعوی سره دا خبره متناسبه وه چه ده اقلاً له آسمانه د سرو زرو یا سپینو زرو کومه غیبی خزانه موندلی او وررسیدلی وی چه له هغی ځنی ده په خلاص لاس سره ښه مال او دولت صرفولی او (د بازار له تګ او راتګ او د معاش د تحصیل له جنجاله خلاص وی) د ګردو

(تولو) خلقو فکر او توجه ئی د دغی ورکړی او سخا له پلوه خپل ځان ته ورکش کړی وی.
خیر! که دغه هم ورسره نشته نو د عادی مشرانو او معمولی رئیسانو او د ځمکی د خاوندانو په
شان د انګورو (کورو) او خرماؤ (کجورو) او د نورو میوو له باغونو څخه د یوه باغ خاوند خو
وی چه له هغه څخه ئی که نورو ته څه شی نه ورکولی اقلاً دی پخپله خو د خوړلو او څښلو او
خپلو نورو ضروریاتو څخه بی‌فکره او بی‌پروا کیدی. لکه چه دی له دغو ګردو (تولو) شیانو څخه
د هیڅ یو څیز خاوند او مالک نه دی نو مونږ څرنګه باور او یقین کولی شو چه پاک الله د
خپل رسالت پر جلیله عهده هم داسی د معمولی حیثیت یو سړی مامور فرمایلی دی؟ نو کله چه
دغه د نبوت مدعی له خپل دغه وضعیت (شان) او هیئت سره دغسی لویه دعوی کوی ماسواء له
دی نه چه ماغزه ئی خراب او دماغ ئی له کاره وتلی دی ـ یا بل چا پری کودی او جادو کړی
دی او د هغه سحر له سببه د ده دماغ مختل (خراب) شوی دی او د هغه له اثره داسی چتی
(بیکاره) او چپوله (فضول) خبری کوی (العیاذ بالله) بل څه شی دی؟

ٱنظُرۡ كَيۡفَ ضَرَبُواْ لَكَ ٱلۡأَمۡثَٰلَ فَضَلُّواْ فَلَا يَسۡتَطِيعُونَ سَبِيلٗا ۝٩

وګوره (ای محمده!) څرنګه بیانوی (تری دغه معاندان) تاته مثالونه (د شعر
سحر کذب) پس ګمراهان شول دوی پس طاقت نه لری دوی (حق ته د موندلو
د) لیاری)

**تفسیر:** یعنی کفار کله وائی د ده خبری محض مفتریاتی دی کله دعوی کوی چه نه! دی دغه
خبری له نورو څخه زده کوی او بیا ئی په خپل قالب کښی اچوی ـ کله دوی ته مسحور وائی ـ
کله ئی ساحر بولی ـ کله کاهن ـ کله شاعر ـ کله ئی مجنون ګڼی. دغه اضطراب او وارخطائی
پخپله دغه خبره څرګندوی چه له دغو خبرو ځنی یوه خبره هم پر دوی نه منطبقه کیږی نو ځکه
د دوی فکر هم پر یوه خبره نه دی تینګ شوی. او د الزام لګولو هیڅ یوه چاره او لیاره ئی نه
ده موندلی. هغه کسان چه د انبیاؤ علیهم السلام په شان کښی داسی سپین سترګی او ګستاخی
او بی ادبی کوی او ګمراه کیږی د دوی د هدایت په نسبت نور هیڅ توقع او هیله (امید) نشته.

تَبَارَكَ ٱلَّذِيٓ إِن شَآءَ جَعَلَ لَكَ خَيۡرٗا مِّن ذَٰلِكَ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي
مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ وَيَجۡعَل لَّكَ قُصُورٗا ۝١٠

ډیر لوی برکتناک څیښتن (خاوند) د ډیر خیر او پورته دی هغه (ذات) که
اراده وفرمائی ګرځوی به تاته (په دنیا کښی) خیر بهتر غوره له دغی

(خزانی او باغونو داسی) باغونه چه بهیږی له لاندی (د ونو) د هغو ویالی او ګرځوی به تاته (په دغو باغونو کښی) بنګلی.

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ په خزانه کښی هیڅ تقلیل او کمی نشته. که الله جل جلاله اراده وفرمائی یو باغ څه شی دی ډیر زیات باغونه به له دغو اوصافو او صفاتو څخه لا ښه درعنایت کړی چه دغه خلق د هغه مطالبه کوی بلکه الله تعالیٰ پر دی هم قادر دی چه د آخرت هغه ګرد (تول) باغونه او نهرونه او حور او قصور او نور چه درکول کیږی هم دلته درعطاء کړی ـ لیکن د الله تعالیٰ حکمت بالفعل د دی خبری مقتضی نه دی ځکه که د دغو معاندینو هم دغه ګردی (تولی) غوښتنی او فرمائشونه هم پوره او تکمیل کړل شی ـ خو بیا هم دوی د حق منونکی او د صداقت قبلونکی نه دی. باقی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صداقت د تثبیت دپاره هغه دلائل او معجزات چه درواندی کړی شوی هغه کافی بلکه له ضرورته څخه زیات هم دی.

بَلْ كَذَّبُوا بِالسَّاعَةِ وَأَعْتَدْنَا لِمَن كَذَّبَ بِالسَّاعَةِ سَعِيرًا ﴿١١﴾

بلکه نسبت د دروغو کوی (کفار) په قیامت باندی (چه نشته) او تیار کړی دی مونږ دپاره د هغه چا چه نسبت د دروغو کوی په قیامت باندی سخت اور (د دوزخ).

**تفسیر:** یعنی دغه خلق چه د هغو شیانو مطالبه کوی هغه فی‌الحقیقت د حق د طلب په نیت نه دی بلکه محض د شرارت او رېړو (تکلیفونو) دپاره داسی کوی او د دوی د دی شرارت سبب دا دی چه هغوی تراوسه پوری په قیامت او د قیامت په سزا او جزا یقین او باور نه لری. نو دوی دی دغه خبره ښه په یاد ولری چه د دوی له دغه تکذیبه څخه هیڅ شی نه جوړیږی او قیامت خامخا راتلونکی دی او د مکذبینو دپاره هغه د اور بندیخانه چه لا له پخوا څخه تیاره کړی شوی ده دوی هرومرو (خامخا) په همغی کښی لویدونکی دی.

إِذَا رَأَتْهُم مِّن مَّكَانٍ بَعِيدٍ سَمِعُوا لَهَا تَغَيُّظًا وَزَفِيرًا ﴿١٢﴾

کله چه ووینی (دغه اور) دوی له هغه ځای لری نو آوری به دوی (دغه اور) لره خوتکیدل (له ډیره قهره) او غوریدل (له ډیره غضبه).

**تفسیر:** یعنی د دوزخ اور په محشر کښی کله چه جهنمیان له لری څخه ووینی په ډیر جوش او خروش راځی ـ د هغه له غضبناکو غړونو او خوفناکو نارو سورو او بد رنګه خوتکیدلو څخه د

ديرو زوروروو ميرو او زړه ورو سريو تريخي چوی ـ او لرمون خوړينی کيږی.

وَإِذَآ أُلْقُوا۟ مِنْهَا مَكَانًا ضَيِّقًا مُّقَرَّنِينَ دَعَوْا۟ هُنَالِكَ ثُبُورًا ﴿١٣﴾

او کله چه وغورځولی شی (کفار) له دوزخ نه په ځای تنګ کښی په دغه حال کښی چه (څو تنه يو ځای سره نژدی په ځنځيرو) سره تړلی شوی وی نو په دغه ځای بولی دوی هلاک (خپل)

**تفسير:** يعنی په دوزخ کښی به د هر مجرم دپاره ځان ته ځای وی چه له هغه څخه به له سره نشی خوځيدی ـ او د يوه نوعيت څو څو مجرمان به په يوه ځنځير کښی سره تړل کيږی په دغه وقت کښی به مجرمين د مصيبت او عذاب له ويری مرګ ته ناری وهی چه کاشکی مرګی راشی ـ او مونږ ته له دغو مصائبو او بلياتو څخه نجات راکړی.

(نو ويه ويل شی دغو کفارو ته له جانبه د الله تعالیٰ جل وعلا شانه وعظم برهانه داسی چه)

لَّا تَدْعُوا۟ ٱلْيَوْمَ ثُبُورًا وَٰحِدًا وَٱدْعُوا۟ ثُبُورًا كَثِيرًا ﴿١٤﴾

مه غواړئ مه بولئ تاسی نن ورځ هلاک يو او وبولئ تاسی هلاکونه دير (ځکه چه عذاب مو دير اقسام لری).

**تفسير** يعنی که يو کرت مره شو او له دغه مصيبت څخه خلاصی ومومو ځکه په هره ورځ کښی له زرو کرتو څخه زيات له مرګه بد حال راپه برخه کيږی (موضح القرآن).

قُلْ أَذَٰلِكَ خَيْرٌ أَمْ جَنَّةُ ٱلْخُلْدِ ٱلَّتِى وُعِدَ ٱلْمُتَّقُونَ ۚ كَانَتْ لَهُمْ جَزَآءً وَمَصِيرًا ﴿١٥﴾

لَّهُمْ فِيهَا مَا يَشَآءُونَ خَٰلِدِينَ ۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ وَعْدًا مَّسْـُٔولًا ﴿١٦﴾

ووايه (ای محمده! دوی ته) آيا دغه (خير بهتر غوره دی يا هغه جنت د هميشه والی چه وعده کړی شوی وه (د دغه جنت) له پرهيزګارانو سره چه دی (هغه جنت په علم د الله کښی) دوی ته جزاء (بدل) د عمل او ځای د ورتلو شته دوی ته په دغه (جنت) کښی هر څه چه غواړی دوی حال دا چه تل به وی دوی پکښی دی (دخول د جنت سره له خلوده) پر رب ستا موعوده

(وعده کړی شوی تفضلاً له جانبه د الله) غوښتلی شوی (له جانبه د مؤمنانو).

**تفسیر:** یعنی د مکذبینو انجام مو واورید اوس تاسی پخپله د دغی خبری فیصله وکړئ چه آیا دغه مو خوښ او پسند دی؟ که هغه وعده چه له متقینو مؤمنینو سره له جانبه د الله تعالیٰ کړی شوی ده؟ (او غوښتلی شوی ده له جانبه د مؤمنانو ـ او مؤمنان به هم) همغه شی غواړی چه د دوی له مرتبی سره وړ ـ لائق او مناسب وی. له ﴿وَعۡدٗا مَّسۡـُٔولٗا﴾ څخه حتمی وعده مراده ده چه الله تعالیٰ هغه پخپل فضل او کرم سره پخپله ذمه اخیستی ده ـ یا دا مطلب چه متقین به د هغی وعدی د ایفاء سوال وکړی چه یقیناً به پوره کیږی لکه چه په دعاء کښی راغلی دی ﴿رَبَّنَا وَءَاتِنَا مَا وَعَدتَّنَا عَلَىٰ رُسُلِكَ وَلَا تُخۡزِنَا يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۖ إِنَّكَ لَا تُخۡلِفُ ٱلۡمِيعَادَ﴾

وَيَوۡمَ يَحۡشُرُهُمۡ وَمَا يَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ فَيَقُولُ ءَأَنتُمۡ أَضۡلَلۡتُمۡ عِبَادِي هَٰٓؤُلَآءِ أَمۡ هُمۡ ضَلُّواْ ٱلسَّبِيلَ ﴿١٧﴾

او (یاده کړه ای محمده هغه ورځ چه راجمع به کړی (الله) دغه (کفار) او هغه (باطل معبودان) چه عبادت کاوه دوی غیر له الله (هغوی ته) پس وبه وائی (الله دغو معبودانو ته) آیا تاسی گمراه کړی ؤ تاسی بندگان ځما دغه (چه مشرکان) دی او که دوی پخپله ورکه کړی وه لیاره (د حق بی له سعیی د تاسی)؟.

**تفسیر:** یعنی دغه خو عابدینو ته اورول کیږی او بالوسیله به له معبودانو څخه پوښتنه کیږی چه آیا تاسی دوی ته د شرک یا د خپل عبادت دعوت او ترغیب ورکړی ؤ؟ یا دوی له خپله جهله او حماقته او غفلته او بی توجهی څخه گمراه شوی دی.

قَالُواْ سُبۡحَٰنَكَ مَا كَانَ يَنۢبَغِي لَنَآ أَن نَّتَّخِذَ مِن دُونِكَ مِنۡ أَوۡلِيَآءَ

وبه وائی (معبودان) چه پاکی ده تاته له شریکه او له عیوبه نه ښاییږی مونږ ته دا چه ونیسو مونږ غیر له تانه (یا الله) هیڅ دوستان

**تفسیر:** یعنی یا الله! مونږ څه قوت ـ قدرت او مجال درلود (لرلو) چه ستا د مقدس ذات څخه په څنګ شوی نور کسان خپل ملګری یا دوستان نیولی وی بیا کله چه مونږ د خپلو نفسونو دپاره ماسواء له تا بله کومه هیله (امید) او اسره او امید نه درلود (لرلو) نو نورو ته به مو ولی داسی

حکم ورکاوه چه راشئ مونږ خپل معبود مقصود او حاجت ورکوونکی وګنئ.

وَ لٰكِن مَّتَّعۡتَهُمۡ وَ اٰبَآءَهُمۡ حَتّٰى نَسُوا الذِّكۡرَ ۚ وَكَانُوۡا قَوۡمًۢا بُوۡرًا ﴿۱۸﴾

ولیکن ښه معاش ورکړی ؤ تا (ای الله!) دوی ته او پلرونو د دوی ته تر هغه پورې چه هیر کړ دوی پند (کتاب) ستا، او وو دوی (په حکم د تا) قوم هلاکیدونکی.

**تفسیر:** یعنی اصل دا دی چه دغه بدبختان د خپل بد استعداد لامله (له وجی) د خپلو ځانونو د تباه کولو دپاره مندی وهی او د دوی دپاره هلاکت مقدر شوی دی د هغو ظاهری سبب دا دی چه دوی په عیش او آرام او د غفلت په نشو کښې ډوب تللی دی او دغه ستا یادونه او تذکره هیروی او پر هیڅ پند او نصیحت غوږ نه ږدی او د انبیاؤ د هدایت او ارشاد څخه بیخی سترګی پټوی او پر دنیوی منافع او تمتع مغرور شوی دی ـ تاسی که د خپلی مهربانی لامله (له وجی) هومره فواید دوی ته او د دوی پلرونو او نیکونو ته وررسوئ هغومره دوی په خپل غفلت او نسیان کښې ترقی کوی لازم خو داسی ؤ چه دوی د الله تعالیٰ د دغو انعاماتو د لیدلو په اثر به ئی د حقیقی منعم بندګی او شکر ایستل اختیارول ـ مګر دوی بالعکس پر خپل کفر ـ شرک او جهل مفتون او مغرور شوی دی ـ او د کفر او عصیان خوا ته مندی وهی د ژوندون اوبه د بدبختی لامله (له وجی) د دوی په حلق کښې زهر جوړ شوی دی.
(الله تعالیٰ جل وعلا شانه وعظم برهانه به بیا دغو بت پرستانو ته دغسی وفرمائی)

فَقَدۡ كَذَّبُوۡكُمۡ بِمَا تَقُوۡلُوۡنَ ۙ فَمَا تَسۡتَطِيۡعُوۡنَ صَرۡفًا
وَّلَا نَصۡرًا ۚ وَمَنۡ يَّظۡلِمۡ مِّنۡكُمۡ نُذِقۡهُ عَذَابًا كَبِيۡرًا ﴿۱۹﴾

نو په تحقیق دروغجنان کړئ (معبودانو مو) تاسی (ای مشرکانو) په هغه خبره کښې چه ویله تاسی (چه دغه مو خدایان دی) پس طاقت نه لرئ تاسی د ګرځولو د عذاب (له خپله ځانه) او نه د مدد کولو (یو له بله سره)، او هر هغه چا چه ظلم وکړ له تاسی وبه څکوو مونږ هغه ته عذاب لوی (چه خلود فی‌النار دی).

**تفسیر:** دغه به د الله تعالیٰ له جانبه ارشاد وی چه درواخلئ! د هغو په امداد او اعانت چه تاسی اعتماد کړی ؤ هغوی بالذات ستاسی د دغی ادعاء تردید ـ او تاسی دروغجنوی ـ او ستاسی له

دغو حرکاتو شخه په ښکاره ډول (طریقه) سره د بیزاری او نفرت اظهار کوی.
﴿ فَمَا تَسْتَطِيعُونَ صَرْفًا وَلَا نَصْرًا ﴾ پس طاقت نه لرئ تاسی د گرځولو د عذاب له خپله ځانه او نه د مدد کولو یو له بله سره) یعنی نن نه د الله تعالیٰ د عذاب مخه بیرته گرځولی شئ! او نه د هغه احکام اړولی شئ! او نه یو له بل سره څه مدد او مرسته (امداد) کولی شئ! هر چاته چه هره سزا وررسیدونکی ده هغه هرومرو (خامخا) اوس وررسیږی نو هغه دی هلته پروت وی او د هغه خوند او مزه دی وڅکی! ښایی له ظلم څخه دلته په ﴿ وَمَن يَظْلِم مِّنكُمْ ﴾ کښی مراد شرک وی او ممکن دی چه نور هر قسم ظلم او گناه هم تری مراد وی.

وَمَا أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنَ الْمُرْسَلِينَ إِلَّا إِنَّهُمْ لَيَأْكُلُونَ الطَّعَامَ وَيَمْشُونَ فِي الْأَسْوَاقِ ۗ وَجَعَلْنَا بَعْضَكُمْ لِبَعْضٍ فِتْنَةً أَتَصْبِرُونَ ۗ وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيرًا ﴿٢٠﴾ ع

او نه دی لیږلی مونږ پخوا له تانه (ای محمده! هیڅوک) له مرسلانو څخه (په هیڅ کیفیت) مگر (په دغه کیفیت سره چه) بیشکه دوی خامخا خوړل به دوی طعام او گرځیدل به دوی په بازارونو کښی (دپاره د مطالبو خپلو) او گرځولی دی مونږ ځینی د تاسی دپاره د ځینو نورو آزموینښت آیا صبر کوئ (ای اهل الابتلاء که نه؟ بلکه صبر وکړئ!) او دی رب ستا ښه لیدونکی (عالم په ټولو احوالو).

**تفسیر:** دغه جواب شو د ﴿ وَقَالُوا مَالِ هَٰذَا الرَّسُولِ يَأْكُلُ الطَّعَامَ ﴾ الآیة - یعنی له تاسی څخه پخوا هومره انبیاء چه د خلق الله په طرف مبعوث شوی دی هغه گرد (ټول) سره انسانان وو او د انسانانو په شان به ئی خوړل او څښل - او د خپلو ضروریاتو او د اعاشی د لوازمو دپاره به بازارونو ته هم تلل او هغوی می له سره د پرښتو په حیثیت نه دی لیږلی چه د اکل او شرب او د ژوندانه له ضروریاتو څخه به مستغنی وو له دی نه معلومیږی چه د خپلو ضروریاتو دپاره بازارونو ته د نه ورتلو منشاء کبر - غرور او ځان لوی گڼل وی نو دغه د لوئی او مشرتوب پر خلاف دی.
﴿ وَجَعَلْنَا ﴾ الآیة - او گرځولی دی مونږ ځینی ستاسی دپاره د ځینو نورو آزموینښت آیا صبر کوئ ای اهل الابتلاء که نه؟ بلکه صبر وکړئ!) یعنی انبیاء د دی دپاره دی چه د کفارو د کفر او ایمان او بغاوت او طغیان امتحان او آزموینه وکړی او انبیاء د دی دپاره دی چه د دوی د صبر - ثبات - استقامت - آزموینه او امتحان وشی نو اوس دی وکتل شی چه د کفارو د دغه

سفاهت او جهالت د لیدلو او د دغه طعن او تشنیع او لغو اعتراضاتو د آوریدلو په مقابل کښې تاسې تر کومې اندازې پورې صبر ـ استقامت او استقلال څرګندولی شئ؟.
﴿ وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيرًا ﴾ او دی رب ستا ښه لیدونکی عالم په تولو احوالو) یعنی د کفارو د کفر او ایذاء رسوونه او د صابرانو صبر او تحمل ګرد (تول) د الله تعالیٰ جل وعلا شأنه وعظم برهانه په علم او نظر کښې دی او هر یوه ته خامخا د ده د هم هغه عمل سزا او جزاء ورکوی.

وَقَالَ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا لَوْلَا أُنْزِلَ عَلَيْنَا الْمَلَائِكَةُ أَوْ نَرَىٰ رَبَّنَا ۗ لَقَدِ اسْتَكْبَرُوا فِي أَنْفُسِهِمْ وَعَتَوْا عُتُوًّا كَبِيرًا ﴿٢١﴾

او وائی هغه کسان چه نه لری امید د ملاقات ځمونږ (او نه منی قیامت یا نه ویریږی له عذابه ځمونږ) ولی نه نازلولی شی پر مونږ باندی پرښتی (مصدقی د رسول یا چه شی رسولانی مونږ ته؟) یا ولی نه وینو مونږ رب خپل (چه خبری راسره وکړی او حکم وکړی مونږ ته په متابعت د رسول نو الله فرمائی) خامخا په تحقیق کبر کړی دی دوی (کبر چه ثابت دی) په نفسونو د دوی کښی او تیر شوی دی (له حده خپله) په تیریدلو لویو سره.

**تفسیر** : یعنی هغه کسان چه داسی امید نه لری چه یوه ورځ به ځمونږ په مخ کښی د حساب او کتاب دپاره حاضریږی نو هغوی د سزا له ویری بیخی بی خوفه دی او داسی د عناد او گستاخی خبری کوی او چتی (بیکاره) وئیلی. مثلاً وائی چه د محمد په شان پر مونږ ولی پرښتی وحی نه راوړی؟ یا پخپله الله تعالیٰ ولی له مونږه سره خبری نه کوی؟ یا اقلا د تصدیق دپاره خو یوه پرښته راغلی وی؟ یا مونږ په خپلو سترگو سره ښائی الله ووینو او په خپلو غوږونو سره ستا د دغی دعوی تصدیق او تائید تری واورو. لکه چه جزء ۸ د «الانعام» په (۱۵) رکوع ۱۲٤ آیت کښی راغلی دی: ﴿ قَالُوا لَنْ نُؤْمِنَ حَتَّىٰ نُؤْتَىٰ مِثْلَ مَا أُوتِيَ رُسُلُ اللَّهِ ﴾ او جزء ۱۵ د «الاسراء» په (۱۰) رکوع ۹۲ آیت کښی مرقوم دی ﴿ أَوْ تَأْتِيَ بِاللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ قَبِيلًا ﴾
دوی په خپلو زړونو کښی خپل ځان دیر لوی گڼی نو ځکه د وحی او پرښتو د نزول تمنا لری. د دوی شرارت او سرکشی خپلی انتهائی درجی ته رسیدلی ده چه سره له دومره سختو گناهونو او تورو عملنامو غواړی چه په دنیا کښی پخپلو سترگو سره الله تعالیٰ ووینی او له هغه سره د غږیدلو شرف ځان ته مطالبه کړی.
﴿ لَقَدِ اسْتَكْبَرُوا ﴾ ـ ترجمه شیخ الهند داسی کړی ده: «دیره لوئی ساتی دوی پخپلو ځانونو کښی او سرونه جگوی (وچتوی) په لویو شرارتونو سره» او ځینی ئی دغسی ترجمه کوی «په تحقیق سره پټ کړی ئی دی تکبر او کفر په زړونو خپلو کښی او سرکشی کړی ده دوی په سرکشی لویی سره چه پس له لیدلو د داسی معجزو څخه د ملائکو راتله او د الله تعالیٰ لیدل هم په دنیا کښی غواړی».

يَوْمَ يَرَوْنَ الْمَلَائِكَةَ لَا بُشْرَىٰ يَوْمَئِذٍ لِلْمُجْرِمِينَ

وَيَقُولُونَ حِجْرًا مَّحْجُورًا ﴿٢٢﴾

(یاده کړه ای محمده!) هغه ورځ چه ووینی دوی پرښتی (د عذاب) نه به وی زیری (خوشالی) په دغه ورځ کښی دپاره د مجرمانو (کافرانو) او وبه وائی دوی چه چیری دی منع کړل شی په کوم مانع سره.

**تفسیر:** یعنی دوی به د «حجراً محجوراً» الفاظ وائی. دغه «حجر» هغه مصدر دی چه فعل ئی متروک الذکر دی «حجر» په معنی د منع ده او «محجوراً» ئی تاکید دی معنی ئی داسی شوه: «او وبه وائی دغه کفار چه منع غواړو تینګه منع له لیدلو د ملائکو د عذابه او پناه نیسو په الله تعالیٰ پوری له ملاقاته د ملائکو په منع د مانع سره» یا به ئی معنی داسی وی: «او وبه وائی دغه ملائک دغو کفارو ته چه حرام دی یا حرام کړی شوی دی پر تاسی جنت او منع دی په مانع سره» او لنډ مطلب ئی داسی شو چه ای کفارو مه ویریږئ یوه داسی ورځ هم راتلونکی ده چه ستاسی سترګی به په پرښتو ولګیږی مګر پرښتی به ستاسی په شان د مجرمانو له لیدلو څخه نه خوښیږی بلکه تاسی به له ډیرو سختو هولناکو مصائبو سره مخامخ کیږئ! دغه خلق چه اوس د پرښتو د نزول مطالبی کوی په هغه وقت کښی به د «حجراً محجوراً» په ویلو پناه غواړی او په دی ډیر خوښیږی چه که د دوی او د پرښتو په منځ کښی کومه سخته پرده او سد پروت وی څو هغوی دوی ته نه ورنژدی کیدی لیکن د الله تعالیٰ فیصله کله بلا اجراء پاتی کیدی شی پرښتی به هم «حجراً محجوراً» وائی او دغه مطلب دوی ته ورښکاره وی چه نن ورځ تاسی د خوښی او بری څخه بیخی بی‌برخی او ممنوع یئ.

**تنبیه:** ممکن دی چه دغه تذکره د احتضار او څنکدن (موت) په وقت کښی وی کما جاء فی جزء ۱۰ سورت الانفال (۷ رکوع) ۵۰ آیت ﴿ وَلَوْ تَرَىٰ إِذْ يَتَوَفَّى الَّذِينَ كَفَرُوا الْمَلَائِكَةُ يَضْرِبُونَ وُجُوهَهُمْ وَأَدْبَارَهُمْ ﴾ او د جزء ۷ (الانعام) په ۱۱ رکوع ۹۳ آیت کښی راغلی دی ﴿ وَلَوْ تَرَىٰ إِذِ الظَّالِمُونَ فِي غَمَرَاتِ الْمَوْتِ وَالْمَلَائِكَةُ بَاسِطُو أَيْدِيهِمْ أَخْرِجُوا أَنفُسَكُمُ الْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُونِ ﴾ ګواکی هم دغه کیفیت به د ده په مقابل کښی هم وی چه د حٰم السجده په ٤ رکوع ۳۰ آیت (۲٤) جزء کښی بیان شوی دی: ﴿ إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ ﴾ او ممکن دی چه دلته د قیامت د ورځی ذکر وی والله اعلم.

وَقَدِمْنَا إِلَىٰ مَا عَمِلُوا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَاهُ هَبَاءً مَّنثُورًا ﴿٢٣﴾

او اراده کړی ده رسیدلی یو مونږ هغو شیانو ته چه کړی دی (دغو کفارو) له (نیک) عمل نه پس وبه ګرځوو مونږ هغه (نیک عمل په شان د) وړی

(ګرد) تار په تار کړی شوی.

**تفسیر**: یعنی دوی مونږ ته ناری وهلی او مونږ ئی په کار وو. دغه دی مونږ هم ورحاضر شو مګر د دوی د عزت د زیادت دپاره نه بلکه د دی دپاره چه هغه کارونه چه دوی پخپل باطل زعم سره نیکی ګڼلی هغه ورته قطعاً ګدوډ او خراب او تراب کړو. او داسی بی حقیقت او بی ثمره او د وړځ په شان ئی په هوا کښی والوځوو لکه چه د خاوری حقیر ذرات دی خوا هغه خوا آلوځی. ځکه چه هغه اعمال د اخلاص او ایمان له روحه بیخی تش او د حق له طریقه سره بالکل متضاد واقع شوی دی کما جآء فی جزء ١٣ سورة ابراهیم ٣ رکوع ١٨ آیت ځمونږ د دغه مبارک تفسیر ﴿ مَثَلُ الَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ أَعْمَالُهُمْ كَرَمَادٍ اشْتَدَّتْ بِهِ الرِّيحُ فِي يَوْمٍ عَاصِفٍ ﴾ الآیة -
**وغیر ذلک من الآیات.**
اوس بیان فرمائی الله جل وعلا شانه وعظم برهانه فضائل د جنتیانو پر دوزخیانو باندی داسی:

## أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ يَوْمَئِذٍ خَيْرٌ مُّسْتَقَرًّا وَأَحْسَنُ مَقِيلًا ﴿٢٤﴾

صاحبان (ملګری) د جنت په دغه ورځ (د قیامت کښی بهتر غوره) خیر دی له جهته د (ځای د قیام او کلام او) هستوګنی او ډیر ښه به وی له جهته (د ځای) د خوب د غرمی (او د راحت).

**تفسیر**: یعنی دغه منکران به د هغی ورځی په مصیبت کښی ګرفتار او اخته کیږی چه اوس دوی پر مؤمنانو ملندی (خندا) وهی او مسخری پری کوی نو پر دغو مؤمنانو چه دوی خاندی هغوی به په جنت کښی عیش او عشرت او مزی کوی.

## وَيَوْمَ تَشَقَّقُ ٱلسَّمَآءُ بِٱلْغَمَٰمِ وَنُزِّلَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ تَنزِيلًا ﴿٢٥﴾

او (یاده کړه ای محمده!) هغه ورځ (د قیامت) چه توټی توټی به شی آسمان په وریځو سره او نازلی به کړی شی پرښتی په نازلولو سره (پرله پسی).

**تفسیر**: د قیامت په ورځ وروسته د آسمانونو له چاودیدلو له پاسه د وریځی په شان یو شی راکوزیدونکی لیدل کیږی چه په هغه کښی به د الله تعالیٰ یوه خاصه تجلی وی چه د هغی تعبیر مونږ په شاهی چتر سره کوو ښائی چه دا به همغه څیز وی چه ئی د «ابو زرین رضی الله تعالیٰ عنه» په حدیث کښی په «عماء» سره او د «نسائی» په یوه حدیث کښی چه له معراجه سره متعلق دی په «غیابه» سره تعبیر کړی دی والله اعلم. له هغه سره به د پرښتو ډیر هجوم او

بیرؤبار وی او د آسمانونو پرښتی به د محشر د مقام په طرف مسلسلی کوزیږی د البقره په جزء ۲ (۲۵) رکوع د ۲۱۰ آیت ﴿هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا أَن يَأْتِيَهُمُ اللَّهُ فِي ظُلَلٍ مِّنَ الْغَمَامِ وَالْمَلَائِكَةُ﴾ الآية - په تفسیر کښی هم داسی یو مضمون لیکلی شوی دی.

ٱلْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ ٱلْحَقُّ لِلرَّحْمَٰنِ ۚ وَكَانَ يَوْمًا عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ عَسِيرًا ﴿٢٦﴾

ملک (او کامل سلطنت) په دغه ورځ (د قیامت کښی) حق ثابت دی دپاره د رحمٰن، او وی به دغه ورځ (د قیامت) پر کفارو ډیره سخته.

**تفسیر :** یعنی ظاهراً او باطناً صورة او معنی من کل الوجوه یوائحی د هم ده رحمٰن سلطنت او حکومت به وی او صرف د هم ده حکم به چلیږی ﴿لِّمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ۖ لِلَّهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ﴾ (۲٤) جزء د المومن (۲) رکوع (۱٦) آیت بیا کله چه د رحمٰن حکومت شو. هغه کسان چه د رحمت مستحقان وی نو هغوی ته به د رحمت څه کمی وی دوی به په بی حسابه نعمتونو سره د مرحمت مورد گرځی مگر سره له دومره زیات او لامحدود رحمت کفارو ته به په دغه ورځ کښی سخت مشکلات او مصائب ور د مخه کیږی.

چه هر څو وی په بازار کښی ډیر څیزونه    په غریب سری هغومره وی غمونه .

وَيَوْمَ يَعَضُّ ٱلظَّالِمُ عَلَىٰ يَدَيْهِ يَقُولُ
يَٰلَيْتَنِى ٱتَّخَذْتُ مَعَ ٱلرَّسُولِ سَبِيلًا ﴿٢٧﴾

او (یاد کړه ای محمده! هغه د قیامت) ورځ چه خوله به لگوی ظالم پر دواړو لاسونو خپلو (له ډیره غمه او افسوسه او حسرته) وائی به (په قیامت کښی) ای کاشکی نیولی می وی سره له رسوله (د الله د نجات حقه) لیاره.

**تفسیر :** یعنی له ډیر حسرت او ندامت نه به خپلی گوتی چیچی او د افسوس او ارمان لاسونه به سره مږی. او په زیات تأسف سره به وائی چه ولی می په دنیا کښی د الله تعالیٰ او د رسول الله احکام ونه منل؟ او ولی د شیاطین الجن والانس په خبرو وغولیدم چه په دغه بده ورځ اخته او په راز راز (قسم قسم) مصائبو او ربړو (تکلیفونو) کښی لتاړ (خراب) شوم.

يَٰوَيْلَتَىٰ لَيْتَنِى لَمْ أَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيلًا ﴿٢٨﴾

ای هلاکه ای عذابه ای خرابی ځما (راشه دغه دی وقت دی) کاشکی نه می وی نیولی فلانکی سړی دوست خپل.

**تفسیر :** یعنی د هغو کسانو د دوستی یا اغواء څخه چه گمراه شوی وو یا په گمراهی کښی ئی ترقی کړی وه. نو په هغه وقت کښی به دیر افسوس او ارمان کوی چه ولی مو داسی کسان خپل دوستان گڼل کاشکی ځما او د دوی په منځ کښی له سره دوستی او رفاقت نه وی پیدا شوی.
**تنبیه :** مفسرینو چه دلته د عقبه بن ابی معیط او د ابی بن خلف کومه واقعه نقل کړی ده د هغی هیڅ ضرورت نشته. او نه ښائی چه د آیت مدلول پر هغه مقصور کړی شی. هو! دغه تقریر چه مونږ کړی دی په هغه کښی دوی هم داخل دی.

لَقَدْ أَضَلَّنِي عَنِ الذِّكْرِ بَعْدَ إِذْ جَاءَنِي ۗ وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِلْإِنسَانِ خَذُولًا ﴿٢٩﴾

خامخا په تحقیق گمراه کړی وم زه له ذکره پنده (د قرآن) وروسته له هغه کله چه راغی ماته، (دغه ذکر نو فرمائی الله) او دی شیطان دپاره د انسان لغزوونکی غولوونکی.

**تفسیر :** یعنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم پند مونږ ته رسیدلی ؤ چه ځمونږ د هدایت دپاره کافی ؤ او ممکن ؤ چه هغه ځما په زړه کښی ځای هم نیولی وی مگر د دغه کمبخت د دوستی لامله (له وجی) زه تباه او برباد شوم. او له زړه هغه لوری ته متوجه نه شوم. بیشکه چه جنی او انسی شیطان لوی چلباز او تگ دی. انسان ته په عین وقت کښی فریب ورکوی، او په دیر بد صورت ئی رسوا او مسخره کوی.

وَقَالَ الرَّسُولُ يَا رَبِّ إِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوا هَٰذَا الْقُرْآنَ مَهْجُورًا ﴿٣٠﴾

او ویل رسول (د الله محمد) ای ربه ځما په تحقیق قوم ځما نیولی دی دغه قرآن ترک کړی شوی (چه نه پری ایمان راوړی او نه پری عمل کوی او نه ئی لولی).

**تفسیر :** یعنی کله چه ضد کوونکیو او معاندانو په هیڅ صورت سره د هیچا نصیحت او پند ته غوږ کینښود دلته رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالیٰ دربار ته شکایت وکړ چه یا الله العالمین، ځما قوم ځما خبری ته غوږ نه ږدی. دوی د قرآن عظیم الشان په شان یو لوی کتاب

ته خراب نسبتونه کوی العیاذ بالله کله چه قرآن لوستل کیږی نو دوی ډیر زیات شورماشور لګوی او چتی (بیکاره) چپولی (فضول) خبری اتری کوی او لویه غلغله نښلوی څو ئی هیڅوک وانه وری. او په مطلب یی پوه نشی په دی ترتیب دغو اشقیاؤ دغه پاک قرآن په شان یو د قدر قابل کتاب ئی بالکل متروک او مهجور ګرځولی دی او له اعتناء او التفاته ئی غورځولی دی.

**تنبیه :** اګر که په دغه آیت کښی صرف د کفارو ذکر دی. خو بیا د قرآن نه تصدیقول په هغه کښی عدم تدبر او غور نه کول د ده پر احکامو عمل نه کول، د تلاوت څخه ئی غاړه غړول، د ده د قرائت د تصحیح په طرف نه متوجه کیدل. له هغه څنی اعراض او څنګ کول او د نورو لغویاتو یا حقیرو شیانو په طرف متوجه کیدل دغه ګرد (تول) صورتونه درجه په درجه د پاک قرآن د هجران لاندی داخل کیدی شی. فنسأل الله الکریم المنان القادر علیٰ ما یشاء ان یخلصنا مما یسخطه و یستعملنا فیما یرضیه من حفظ کتابه وفهمه والقیام بمقتضاه آناء اللیل واطراف النهار علی الوجه الذی یحبه و یرضاه، انه کریم وهاب.

نو فرمائی الله جل وعلا شانه وعظم برهانه لپاره د تسلی د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم چه:

---

وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا مِّنَ الْمُجْرِمِينَ ۗ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ هَادِيًا وَنَصِيرًا ﴿٣١﴾

---

او هم داسی (لکه چه کفار می ستا اعداء ګرځولی دی) ګرځولی ؤ مونږ (پخوا له تانه) دپاره د هر نبی دښمنان له مجرمانو (کفارو نو صبر وکړه په شان د نورو انبیاؤ بس)، او کافی دی رب ستا سمه صافه لیار ښوونکی او ښه مدد کوونکی (پر اعداؤ).

---

**تفسیر :** یعنی هغه کسان چه د انبیاؤ د خبرو په منلو کښی مشکلات او موانع وړاندی کوی او خلق د حق له قبوله منع کوی هم دوی د انبیاؤ اعداء دی نو دغه اعداء چه کفار دی اګر که د خلقو پر ضلالت او ګمراه کولو پسی خپلی ملاوی وتړی څه مهم موفقیت ئی نه په برخه کیږی څکه د هر چا په نسبت چه الله تعالی داسی اراده وفرمائی چه هدایت وموهی هدایت یی ور په برخه کوی یا یی دا مطلب چه د هر چا د هدایت اراده چه پاک الله وکړی هدایت ئی ور په برخه کوی او د هغو په برخه کښی چه هدایت نه وی د هغو ګردو (تولو) په مقابل کښی الله تعالیٰ له تاسره معاونت او مرسته (مدد) کوی. یا دا چه الله تعالیٰ ستا مدد کوی او د مطلوب تر مقام پوری به دی رسوی او هیڅ سد او مانع ستا د پرمخ تګ مخه نشی نیولی.

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْاٰنُ جُمْلَةً وَّاحِدَةً ۚ كَذٰلِكَ ۚ لِنُثَبِّتَ بِهٖ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنٰهُ تَرْتِيْلًا ﴿٣٢﴾

او وائی هغه کسان چه کافران شوی دی ولی نه نازلاوه شی پر دغه (محمد) قرآن تول یو کرت (نو فرمائی الله چه نازل کړی دی مونږ)، هم داسی (لږ لږ د ښو فوائدو دپاره چه یوه ئی دا ده) چه ثابت محکم قوی کړو په دغه (قرآن سره) زړه ستا (په حفظ او فهم د معنی د ده سره) او لوستلی دی مونږ دغه (قرآن پر تا) توټی توټی په آرام لوستلو سره.

**تفسیر** : یعنی د نبی الله دښمنان د خلقو د ګمراه کولو دپاره داسی تنقیدات او اعتراضات کوی چه خانه! ولی د نورو آسمانی کتابونو په شان قرآن کریم هم یو ځلی په کامل ډول (طریقه) سره نه نازلیږی؟ چه دغه ئی په ښو کلونو کښی لږ لږ رانازلوی؟ علت ئی څه دی؟ آیا الله تعالیٰ پکښی څه غور او دقت کوی؟ له دی نه خو داسی شبهی او اندیښنی پیدا کیږی چه ګواکی پخپله محمد صلی الله علیه وسلم په ډیر فکر او اندیښنه سره دغه جوړوی او بیا یی په مناسبه موقع کښی لږ لږ آوروی نو د دغو منکرینو جواب داسی ورکړ شو چه دغه خو کومه ضروری خبره نه ده چه قرآن عظیم الشان د لږ لږ نازلیدلو سبب هم دغه وی چه تاسی ئی وایئ نو که لږ څه غور او فکر وکړئ د قرآن کریم په دغه لږ لږ نازلولو کښی داسی ډیری فائدی دی چه هغه په یو وار نازلولو کښی له سره نه حاصلیږی مثلاً په دغه صورت کښی د قرآن مجید حفظ او یادول ډیر زیات آسانیږی او په پوهیدلو کښی زیات سهولت واقع کیږی، کلام پوره ضبطیږی او د هغو مصالحو او حکمتونو رعایت چه په هغو کښی شوی دی خلق موقع په موقع د هغو پر تفاصیلو مطلع کیږی د هر آیت بیل بیل شان نزول ته کتلی د هغه په صحیح مطلب متعین کولو کښی مدد ور رسیږی د هر ضرورت په وقت کښی چه د هری خبری د جواب رارسیدلو څخه د رسول الله او مسلمانانو قلوبو ته لا تطمین او تسکین ور په برخه کیږی او د هر یوه آیت پر نزول ګواکی د ده د اعجاز د دعوی تجدید کیږی په دغه سلسله کښی د جبریل علیه السلام ښو ښو کرته تلل او راتلل هم واقع کیږی چه هغه فی ذاته یو مستقل خیر او برکت دی وغیر ذلک من الفوائد د هم دغو فوائدو له منځه دلته د ځینو په نسبت اشاره فرمایلی شوی ده.

وَلَا يَاْتُوْنَكَ بِمَثَلٍ اِلَّا جِئْنٰكَ بِالْحَقِّ وَاَحْسَنَ تَفْسِيْرًا ﴿٣٣﴾ؕ

او نه کوی دوی راتله تاته کوم مثل (یعنی نه راوړی تاته سوال عجیب په ابطال

د دین ستا) مګر راوړو مونږ تاته (جواب د هغه په واقع او) په حق سره او ډیر ښه تفسیر بیان.

**تفسیر :** یعنی کله چه کفار کوم اعترض پر قرآن یا پر کوم مثال پر تاسی کوی نو عظیم الشان قرآن د هغه جواب په ډیر صاف او ښکاره ډول (طریقه) ورکوی چه په هغه کښی هیڅ شان وړاندی وروسته او لاندی باندی نشته بلکه صاف، واضح، معتدل، او بی غل او بی غش خبره وی هو! د هغو کسانو عقل، سد (هوش) او پوه چه منعکس او منقلب وی نو هغوی سمی صافی خبری هم کږوی او له هغه څخه نور غیر مطلوب تعبیرات راکاږی نو داسی مغرضانه او معاندانه خبری بیلی دی او د داسی خلقو آخره خاتمه دغه ده چه پخپله پاک الله ئی په دی وروستی آیت کښی بیان فرمائی.

ٱلَّذِينَ يُحۡشَرُونَ عَلَىٰ وُجُوهِهِمۡ إِلَىٰ جَهَنَّمَ أُوْلَٰٓئِكَ شَرّٞ مَّكَانٗا وَأَضَلُّ سَبِيلٗا ﴿٣٤﴾

(دوی) هغه کسان (دی) چه جمع به کړه شی او شړل به شی پر مخو خپلو (سر ښکته پښی پورته) طرف د دوزخ ته دغه تولی بد دی له جهته د ځایه او ډیر ښویدلی دی له جهته د لیاری او ډیر ګمراهان دی).

**تفسیر :** یعنی دوی همغه خلق دی چه د دوی عقل منقلب او چپه (التـه) شوی دی علویات ئی پریښی په سفلیه‌ؤ غوښتنو پسی ګرځی او متمائل دی. وروسته له دی نه پر داسی څو اقوامو باندی چه څه وقائع او مصائب پیښی او پر هغوی څه حالات چه واقع شوی ؤ هغه د نورو د عبرت او نصیحت دپاره بیانوی:

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ وَجَعَلۡنَا مَعَهُۥٓ أَخَاهُ هَٰرُونَ
وَزِيرٗا ﴿٣٥﴾ فَقُلۡنَا ٱذۡهَبَآ إِلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا فَدَمَّرۡنَٰهُمۡ
تَدۡمِيرٗا ﴿٣٦﴾ وَقَوۡمَ نُوحٖ لَّمَّا كَذَّبُواْ ٱلرُّسُلَ أَغۡرَقۡنَٰهُمۡ وَجَعَلۡنَٰهُمۡ لِلنَّاسِ
ءَايَةٗۖ وَأَعۡتَدۡنَا لِلظَّٰلِمِينَ عَذَابًا أَلِيمٗا ﴿٣٧﴾ وَعَادٗا وَثَمُودَاْ

وَأَصْحٰبَ الرَّسِّ وَقُرُوْنًا بَيْنَ ذٰلِكَ كَثِيْرًا ﴿٣٨﴾ وَكُلًّا ضَرَبْنَا لَهُ الْأَمْثَالَ وَكُلًّا تَبَّرْنَا تَتْبِيْرًا ﴿٣٩﴾

او خامخا په تحقیق ورکړی ؤ مونږ موسٰی ته کتاب (توریت) او ګرځولی ؤ مونږ له دغه (موسٰی) سره ورور د ده هارون وزیر (مدد ګار) پس وویل مونږ (دوی ته چه) لاړ شئ دواړه هغه قوم ته چه دروغجن ئې شمیرلی دی آیتونه ځمونږ (نو دوی ورغلل او ابلاغ ئې وکړ او فرعونیانو دوی دروغجنان کړل) پس هلاک کړل مونږ فرعونیان په هلاکولو سره او (هلاک کړی ؤ مونږ) قوم د نوح کله چه دروغجن وشمیرل دوی رسولان خپل (لکه نوح ادریس او شیث) غرق کړل مونږ دوی او وګرځول مونږ دوی دپاره د خلقو دلیل (نښه د عبرت) او تیار کړی دی مونږ دپاره د ظالمانو عذاب ډیر دردناک او (هلاک کړل مونږ) عادیان او ثمودیان او صاحبان (یاران) د کوهی او نور اهل د زمانو په منځ د دوی کښی ډیر. او هر یو له دی نه بیان کړی ؤ مونږ ده ته مثالونه (د عبرت په اقامت د حجت په دوی باندی) او ټول مو هلاک کړل په هلاکولو سره.

**تفسیر :** یعنی هغو تکوینه ؤ آیاتونو ته چه د الله تعالٰی پر توحید او نورو باندی ئې دلالت کوه او د پخوانو انبیاؤ هغو متفقو بیاناتو ته چه د هغو لړی او ډیری مذاکری او خبری له پخوا راهسی دوام لری دوی د دروغو نسبت وکړ او د خدائی په دعوی پسی ئې خوله وپرانیستله.

﴿ وَقَوْمَ نُوحٍ لَّمَّا كَذَّبُوا الرُّسُلَ ﴾ : او هلاک کړی ؤ مونږ قوم د نوح کله چه دروغجن وشمیرل دوی رسولان خپل) د یوه نبی دروغجنول د ګردو انبیاؤ د دروغجنولو په منزله دی ځکه چه د دین په اصولو کښی ګرد (ټول) انبیاء سره متحد او متفق دی.

**اصحاب الرس** (کوهی والا) څوک دی؟ په دغه کښی ډیر اختلاف شته. په «روح المعانی» کښی ئې ډیر اقوال نقل کړی په پای (آخر) کښی لیکی: «**وملخص الاقوال انهم قوم اهلکهم الله بتکذیب من ارسل الیهم** - یعنی خلاصه ئې دا ده چه دوی دغسی یو قوم ؤ چه د خپل نبی د تکذیب په سبب هلاک شوی دی.» حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی چه: «یو قوم خپل نبی ئې په کوهی کښی بندی کړی ؤ، بیا څه وقت او مهال چه پر دوی باندی عذاب نازل شو هغه نبی خلاص شو».

﴿ وَكُلًّا تَبَّرْنَا تَتْبِيرًا ﴾ : او ټول مو هلاک کړل په هلاکولو سره) یعنی ګرد (ټول) ئې په ښه ډول (طریقه) سره پوهولی دی کله چه دوی په هیڅ ډول (طریقه) سره هغه ونه مانه نو ئې بیرئ ډوبه کړه.

وَلَقَدْ أَتَوْا عَلَى الْقَرْيَةِ الَّتِي أُمْطِرَتْ مَطَرَ السَّوْءِ ۚ أَفَلَمْ يَكُونُوا يَرَوْنَهَا ۚ بَلْ كَانُوا لَا يَرْجُونَ نُشُورًا ﴿٤٠﴾

او خامخا په تحقيق تير شوی دی (تيريږی دير ځلی كفار) پر قريو كليو ښارونو هغو چه ورولی شوی ؤ پری باران د بدی (د عذاب)، آيا پس نه ؤ دغه (كفار) چه ليدلی ئی وی هغه (قريه چه عبرت به ئی اخيستی وی) بلكه ؤ دوی چه نه به ئی درلود (لرلو) اميد د بيا ژوندی پورته كيدلو.

**تفسير** : يعنی د لوط عليه السلام د قوم د كليو پر هغو كندوالو او مخروبه ؤ ځايونو مكی واله د شام د سفر په وقت كښی تيريږی نو آيا دغو منكرينو هغه كندوالی او خرابی مينی د عبرت په سترګو سره نه دی كتلی؟ بلكه كتلی ئی دی او په دی ښه پوهيږی او خبردار دی چه د پخوانيو مكذبينو پای (آخر) او انجام دير خراب ؤ خو تری نه متنبه كيږی ځكه چه په دوی كښی عبرت له كومه كيږی كله چه د دوی په نزد له سره دغه احتمال هم نشته چه وروسته له مرګه بيا ژوندی راپاڅيدل او د الله تعالیٰ په مخ كښی حاضريدل شته. عبرت خو هم هغه حاصلوی چه د هغه په زړه كښی لږ څه ويره وی او د خاتمی او انجام څخه بيخی بی فكره نه وی.

وَإِذَا رَأَوْكَ إِنْ يَتَّخِذُونَكَ إِلَّا هُزُوًا أَهَٰذَا الَّذِي بَعَثَ اللَّهُ رَسُولًا ﴿٤١﴾ إِنْ كَادَ لَيُضِلُّنَا عَنْ آلِهَتِنَا لَوْلَا أَنْ صَبَرْنَا عَلَيْهَا ۚ وَسَوْفَ يَعْلَمُونَ حِينَ يَرَوْنَ الْعَذَابَ مَنْ أَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٤٢﴾

او كله چه ووينی دوی تا نو نه نيسی دوی تا مګر ځای د مسخری (او تمسخراً سره وائی)، آيا دغه هغه (سړی) دی چه راليږلی دی الله رسول (مونږ ته؟ بلكه دی خو له رسالت څخه دير لری دی) بيشكه چه دی نژدی ؤ چه خامخا ګمراه كړی ګرځولی ئی وی مونږ له خدايانو ځمونږ كه صبر نه وی كړی مونږ په (عبادت) د دوی (نو فرمائی الله) او ژر به پوه شی دوی كله چه ووينی دوی عذاب (د قيامت ښكاره) چه څوک دی دير ګمراه له جهته د لياری.

**تفسير** : يعنی د عبرت حاصلولو په ځای د دوی مشغله هم دا ده چه پر نبی مسخره وكړی لكه

چه ستاسی د ليدلو په وقت کښي استهزاء وائی چه آيا دی هم هغه سړی دی چه د الله تعالیٰ له طرفه رسول راليږلی شوی دی؟ آيا په دغه حيثيت او وضعيت سره د رسالت منصب د چا په برخه کيدی شی؟ آيا د الله تعالیٰ په ګردو (تولو) مخلوقاتو کښي هم دغه يو سړی پاتی ؤ چه د رسالت قابل شو؟ آخر ښائی چه د رسالت څه وجه خو په ده کښي وی هو! دغه خبره خو ضرور په ده کښي شته چه تقرير ئی د جادو اثر لری. د فصاحت په قوت او د تقرير په زور ئی داسی يو وضعيت قائم کړی دی چه د هغه په سبب د خورا (ډيرو) لويو لويو خلقو قدمونه هم وښيوی، نژدی ؤ چه د ده په خبرو سره ځمونږ مخونه هم له خپلو معبودانو څخه وګرځی مګر مونږ پخپل دين او عقائدو کښي داسی ټينګ او مضبوط ولاړ يو چه د هغه د هيڅ يوی خبری اثر مو قبول نه کړ، که نه ده په مونږ ګرد (ټول) سره ګمراهان کړلو العياذ بالله نو الله تعالیٰ جل وعلا شانه وعظم برهانه د دوی د دغه تمسخر او استهزاء او ملندو په مقابله کښي داسی فرمائی:

﴿ وَسَوۡفَ يَعۡلَمُوۡنَ حِيۡنَ يَرَوۡنَ الۡعَذَابَ مَنۡ اَضَلُّ سَبِيۡلًا ﴾ يعنی کله چه دوی د الله تعالیٰ عذاب په خپلو سترګو سره وګوری نو هلته به ورته معلوم شی چه په واقع سره کوم يو ګمراه ؤ؟.

اَرَءَيۡتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ ؕ اَفَاَنۡتَ تَكُوۡنُ عَلَيۡهِ وَكِيۡلًا ۙ﴿۴۳﴾

آيا وينی خبر ئی ته (بلکه خبر ئی) په هغه چا چه نيولی دی دغه خدای خپل هوا (د نفس خپل) آيا پس ته به ئی په ده باندی وکيل (ساتونکی چه منع ئی کړی له هوا خپلی بلکه نه ئی)،

**تفسير :** يعنی آيا تاسی د داسی هوا پرستانو د هدايت پر ليارى د راوستلو ذمه واری کولی شئ چه د دوی معبودان هم د دوی په خوښه او انتخاب وی، هر چيری چه د دوی غوښتنه او خواهش دوی بوځی په هم هغه طرف دوی متمائل کيږی. هره هغه خبره چه د دوی د خواهش سره موافقه وی هغه منی او هر څيز چه د دوی د طبعی څخه مخالف وی هغه پريږدی نن چه يوه تيږه (ګټه) د دوی په نظر کښي ښه ښکاره شوه د هغی په عبادت کښي مشغوليږی صبا چه بله کومه تيږه (ګټه) د دوی په سترګو ښه وبريښيده نو هغه پريږدی او دی ته سجدی ږدی.

اَمۡ تَحۡسَبُ اَنَّ اَكۡثَرَهُمۡ يَسۡمَعُوۡنَ اَوۡ يَعۡقِلُوۡنَ ؕ اِنۡ هُمۡ اِلَّا كَالۡاَنۡعَامِ بَلۡ هُمۡ اَضَلُّ سَبِيۡلًا ﴿۴۴﴾

آيا ګمان کوی ته چه په تحقيق اکثر د دوی آوری يا عقل چلوی (پوهيږی) نه دی دوی مګر په شان د چارپايانو دی (په پند نه اوريدلو کښي) بلکه لا

دوی ډیر لری دی له لیاری (د صواب نه).

**تفسیر :** یعنی په هر ډول (طریقه) سره چه دوی ته پندونه او نصائح واوروئ دوی خو څلوربولی حیوانات دی بلکه له هغوی څخنی هم بدتر او خراب دی، دوی له پوهیدلو او آوریدلو سره هیڅ علاقه او ارتباط نه لری. څاروی او حیوان هم په هر حال د خپل پالونکی او بادار په مقابل کښی خپله غاړه خکته کوی، او خپل محسن پیژنی، او فی‌الجمله نافع له مضر څخه بیلوی. که ئی سر خوشی پریږدی، د څرځای (چراه گاه) او د اوبو څښلو گودر ته پخپله ځی. لیکن د دغو بدبختانو حال داسی دی چه نه د خپل خالق او رازق حق پیژنی، او نه د ده پر ښیګنو (فائدو) او احساناتو پوهیږی او نه ئی قدر او عزت کوی. د ښو او د بدو په منځ کښی د فرق او تمیز کولو څخه عاجز دی. د دوست او دښمن په منځ کښی امتیاز نشی کولی. نه په روحانی غذا پسی او نه د هدایت د چینی په لوری یو قدم وړاندی تلی شی. بلکه له هغه څخه په کروهو لری تښتی. او دوی هغه قوتونه چه الله تعالیٰ دوی ته ورعطاء کړی دی معطل او بیکاره پریښی دی بلکه هغه ئی بی موقع او بی ځایه صرف کړی دی. که دوی لږ څه له عقله او له فهمه کار اخیستی. نو په دغه د قدرت کارخانه کښی بی شماره دلائل او نښی موجود دی چه په نهایت واضح صورت سره د الله تعالیٰ د توحید او تنزیهه او د دین د اصولو او د صداقت او استقامت په طرف لیار ښوونه کوی چه د هغو له منځه د ځینو دلائلو ذکر په راتلونکیو آیاتونو کښی کړی شوی دی.

أَلَمْ تَرَ إِلَىٰ رَبِّكَ كَيْفَ مَدَّ الظِّلَّ وَلَوْ شَاءَ لَجَعَلَهُ سَاكِنًا ثُمَّ جَعَلْنَا الشَّمْسَ عَلَيْهِ دَلِيلًا ﴿٤٥﴾ ثُمَّ قَبَضْنَاهُ إِلَيْنَا قَبْضًا يَسِيرًا ﴿٤٦﴾

آیا نه دی کتلی تا (قدرت د) رب خپل ته چه څرنګه ئی غځولی دی سیوری او که ئی اراده فرمایلی وی نو خامخا ګرځولی به ئی ؤ هغه (سیوری) ولاړ، بیا وګرځاوه مونږ لمر په دی (سیوری) دلیل (چه سیوری پری معلومیږی). بیا راټول کړو مونږ هغه ځان خپل ته په راټولولو آسانو سره (ورو ورو لږ لږ).

**تفسیر :** له سپیده داغه (صبح کاذبه) تر لمر خیرکی پوری هر چیری سیوری وی که الله تعالیٰ داسی اراده فرمایلی وی چه لمر ونه خیژی نو هم دغه سیوری به قائم پاتی کیده. مګر الله تعالیٰ پخپل کامل قدرت سره لمر طالع کړ چه د هغه لامله (له وجی) د لمر د رڼا خوره کیدل شروع شوه او سیوری متدرجاً یوه طرف ته په ځان ټولیدلو او غونډیدلو پیل (شروع) وکړ، که لمر نه

وی راغلی نو مونږ به د سیوری په مفهوم څرنګه پوهیدی شوی؟ ځکه چه د یوه ضد له راتګه بل ضد پیژندل کیږی ﴿ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن جَعَلَ اللَّهُ عَلَيْكُمُ الَّيْلَ سَرْمَدًا إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَٰمَةِ مَنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُم بِضِيَآءٍ ﴾ الآية - (د القصص ۷۱ آیت (۷) رکوع (۲۰) جزء) حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی:

«اول د هر شی سیوری اوږد لویږی. بیا هری خوا ته چه لمر ځی د هغه له مقابله سیوری لږی کیږی څو چه پخپل بیخ ولګیږی. د بیا راتول کرو ځان خپل ته مطلب دا دی چه سیوری ځی خپل اصل ته لګیږی د ګردو (تولو) اصل الله دی. «موضح القرآن» بیا وروسته د زوال له خوا لمر خپله مسافه لندوی او د مغرب په طرف ورنژدی کیږی او د بل طرف سیوری اوږدیږی تر هغه پوری چه د ورځی آخر ته لمر غائبیږی هم دغه د ژوندانه مثال دی اول عدم وو بیا د وجود نور راغی بالاخره بیا کتم العدم ته ځی او پر هم دغه د جسمانی نور او ظل پر سلسله روحانی نور او ظلمت هم قیاس کړئ. که د کفر او عصیان، او جهل او طغیان په ظلماتو کښی الله تعالیٰ د نبوت د لمر رڼا نه وی لیږلی نو هیڅوا ته به د صحیحه معرفت لیاره نه څرګندیده (ښکاریده).

---

وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ لِبَاسًا وَالنَّوْمَ سُبَاتًا وَجَعَلَ النَّهَارَ نُشُورًا ﴿٤٧﴾

---

او هم دغه (الله) هغه (ذات) دی چه ګرځولی ئی ده تاسی ته (په کامل قدرت خپل سره) شپه لباس (پوښاک) او (ګرځولی ئی دی تاسی ته) خوب آرامی او ګرځولی ئی ده ورځ وقت د ښوریدلو او ګرځیدلو (لپاره د طلب د معاش).

---

**تفسیر :** یعنی د شپی تک تور تیاره د څادر په شان پر ګردو (تولو) محیط کیږی چه د هغه لامله (له وجی) ګرد (تول) خلق کاروبار پریږدی او آرام کوی بیا د ورځی رڼا خپریږی (خوریږی) او خلق له خوبه پاڅیږی او دغه لوری او هغه لوری ته تک او راتګ کوی او هم داسی د مرګی د خوب څخه وروسته د قیامت صبا راځی چه په هغه کښی به ګرد (تول) جهان بیا ژوندی راپاڅیږی او هم دغه حالت په هغه وقت کښی ورانددی شوی ؤ کله چه انبیاء علیهم السلام د وحی او الهام په رڼا سره دنیا رڼا کره. نو د جهل او غفلت په خوبونو کښی د ویده ؤ مخلوقو سترګی هم یو ځلی ویرانستلی شوی او ګرد (تول) سره پاڅیدل.

---

وَهُوَ الَّذِي أَرْسَلَ الرِّيَٰحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ

رَحۡمَتِهِۦۚ وَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً طَهُورًا ﴿٤٨﴾ لِّنُحۡـِۧيَ بِهِۦ بَلۡدَةً
مَّيۡتًا وَنُسۡقِيَهُۥ مِمَّا خَلَقۡنَآ أَنۡعَٰمًا وَأَنَاسِيَّ كَثِيرًا ﴿٤٩﴾

او هم دغه (الله) هغه (ذات) دی چه رالیږلی ئی دی بادونه زیری کوونکی د وړاندی د رحمت د دغه (الله چه باران دی)، او نازلی کړی دی مونږ له (طرفه) د آسمانه اوبه پاکی پاکوونکی دپاره د دی چه ژوندی کړو مونږ په دی (اوبو) ځمکه مړه وچه بی زرغونوالی اوچه ور وڅښوو دغه (اوبه) له جملی د هغو شیانو ځنی چه پیدا کړی دی مونږ له چارپایانو او انسانانو ډیرو ته.

**تفسیر** : یعنی ړومبی بارانی هواوی د باران زیری ورکوی بیا د آسمان له طرفه باران ووری چه هغه هم پخپله پاک دی او نور شیان هم پاکوی د اوبو د وریدلو څخه وروسته په مړی تکی توری ویجاړی ځمکی کښی یو نوی روح پیدا کیږی شینکی او ترکودی (نباتات) ئی زرغونیږی. او یوه عجیبه او غریبه ننداره پکښی شکاری له کوم ځای څخه چه پخوا له وریا (باران) دوړی پورته کیدی اوس هلته تکه شنه مرغجنه (کبل زاره) ولاړه ده. او څومره زیات حیوانات او انسانان د باران له اوبو ځنی څښی او تری خړوبیږی هم داسی د قیامت په ورځ کښی هم د یوه غیبی باران په ذریعه هغه مړی هم بیا ژوندی راپاڅولی کیږی چه له خاورو سره ګډوډ شوی وی. او په دنیا کښی هم هغه زړونه چه هم داسی د جهل او عصیان په مرګ سره مړه شوی وو. د الله تعالیٰ د وحی په آسمانی وریا (باران) سره بیا راژوندی کړی شوی دی هغه ارواح چه په نجاست او پلیتی کښی نښتی وی هغه د روحانی باران په اوبو سره وینځلی شوی دی او ګرد (تول) سره پاک او صاف شوی دی او هغه کسان چه د معرفت او د وصول الی الله په اوبو پسی تږی دی د هغه روحانی باران د اوبو په څښلو سره سیراب او خړوب شوی دی.

وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَٰهُ بَيۡنَهُمۡ لِيَذَّكَّرُواْ فَأَبَىٰٓ أَكۡثَرُ ٱلنَّاسِ إِلَّا كُفُورًا ﴿٥٠﴾

او خامخا په تحقیق په راز راز (قسم قسم) ډولونو (طریقو) تقسیم کړی دی مونږ دغه (اوبه یا د باران منشاء) په منځ د دوی کښی دپاره د دی چه فکر وچلوی دوی (په کمال د قدرت ځمونږ کښی) پس منع راوړه زیاترو خلقو (د شکر ګزاری نه) لیکن (د نعمت له) کفران (څخه ئی منع رانه وړه).

**تفسیر** : یعنی د باران اوبه ګردو (تولو) ځمکو او انسانانو ته یو برابر نه وررسیږی بلکه چیری

دیری او چیری لږی چیری ژر. او چیری په څند (ایسارتیا) څرنګه چه د الله تعالیٰ د حکمت اقتضاء وی. هم هغسی ور رسیږی څو خلق وپوهیږی چه د هغه درول او ویشل د قادر مختار او د حکیم الله تعالیٰ په قدرت دی لیکن زیات خلق بیا هم نه پوهیږی. او د الله تعالیٰ د نعمت شکر نه ادا کوی بلکه بالعکس مخ په شرک، کفر او ناشکری مندی وهی، هم دغسی د روحانی باران حال هم قیاس کړئ هر چاته سم د هغه د استعداده او ظرفه سره هومره برخه چه په کار ده وررسیدلی ده. او ډیر کسان د دغه عظمی نعمت په مقابل کښی کفران او ناشکری هم کوی.

وَلَوْ شِئْنَا لَبَعَثْنَا فِي كُلِّ قَرْيَةٍ نَّذِيرًا ﴿٥١﴾ فَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ وَجَاهِدْهُم بِهِ جِهَادًا كَبِيرًا ﴿٥٢﴾

او که اراده مو فرمایلی وی نو خامخا راپورته کړی به مو وی په هره قریه ښار کښی (بیل بیل) ویره‌وونکی (په دغه زمانه کښی هم) نو مه کوه اطاعت (د غوښتنو) د کافرانو او مجاهده مقابله کوه له دوی سره په دغه (قرآن او توفیق د رحمان) په جهاد لوی.

**تفسير :** یعنی د انبیاؤ راتلل کومه عجیبه خبره نه ده. که الله تعالیٰ اراده وفرمائی نو اوس هم ډیر انبیاء مبعوثوی چه په هر کلی کښی بیل بیل نبی وی مګر الله تعالیٰ ته هم دغه خبره منظوره شوه چه اوس دی په آخره کښی د ګرد (تول) جهان دپاره یوائی هم دغه محمد صلی الله علیه وسلم د سید الانس والجان او نبی آخرالزمان په عنوان مبعوث او مرسل شی. نو تاسی د کفارو حماقت او طعنی او تشنیع او سفاهت او تنقید او تردید ته هیڅ توجه او التفات مه کوئ! او د خپل دغه دعوت او تبلیغ کار ته په پوره قوت او جوش او خروش سره ادامه ورکړئ! (جاری وساتئ) او دغه عظیم الشان قرآن پخپل لاس کښی واخلئ! او د دغو منکرانو مقابله په ډیر زور او میرانه (بهادرئ) سره وکړئ! الله تعالیٰ هرومرو (خامخا) بری او کامیابی ستا په برخه کوی. مونږ د «به» مرجع قرآن او توفیق رحمٰن لیکلی ده خو نورو مفسرینو د هغه مرجع د کفارو د اطاعت ترک یا د اسلام په مداومت یا سیف یا حکمت او موعظت هم اخیستی ده.

وَهُوَ الَّذِي مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هَٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَهَٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَحِجْرًا مَّحْجُورًا ﴿٥٣﴾

**او هم دغه (الله) هغه ذات دی (چه په کامل قدرت خپل سره) خوشی کړی ئې دی دوه بحرونه سیندونه چه دغه خوږ دی ډیر خوږ تنده ماتوونکی او هغه بل تریو دی ښه تریو، او گرځولی ده (الله) په منځ د دغو دواړو کښی پرده او بند چه منع کړی شوی دی (په هغه سره اختلاط د دغو دواړو).**

**تفسیر :** په بیان القرآن کښی د دوو معتبرو بنگالیو عالمانو شهادت نقل شوی دی چه له (ارکان) څخه تر (چاټگام) پوری د سیند وضعیت داسی دی چه د دغه سیند په دواړو جانبو کښی د نوعیت او کیفیت له طرفه دوه مختلفه بیل بیل سیندونه په نظر راځی. د یوه اوبه سپینی او د بل اوبه توری دی. په تورو کښی د سمندر په شان طوفانی تلاطم او تموج واقع کیږی او سپینی ئی بیخی آرامی او ساکنی وی. بیړی په هم دغو سپینو کښی چلیږی او د دواړو په منځ کښی د یوه پټی او نوار په شان یوه ډیره اوږده لیکه غځیدلی ده چه د دغو دواړو اوبو ملتقی گڼله کیږی خلق وائی چه سپینی اوبه خوږی او توری اوبه ترخی دی.
مولٰینا شبیر احمد العثمانی مدظله الباری ته د (باریسال) ځینی طالبانو بیان کړی دی چه د (باریسال) په ضلع کښی دوه ویالی له یوه سینده راوځی چه د یوی اوبه ترخی او بیخی تروی دی او د هغی بلی اوبه ډیری خوږی او لذیذی دی.
په گجرات کښی چیری چه مولٰینا شبیر احمد العثمانی مدظله الباری دی (ډابهیل سملک ضلع سورت هند) د سمندر اوبه تقریباً لس دولس میله لری پرتی دی خو د دی ځای په خوړونو او ویالو کښی د سمندر مد او جزر په منظم او مسلسل دول (طریقه) سره صبا او بیگا جاری دی د هغه په نسبت ډیر ثقه سری بیان کوی چه د مد په وقت کښی د سمندر اوبه په گردو (تولو) خوړونو او ویالو کښی پورته کیږی نو د خوړو اوبو پر سطح باندی ترخی اوبه په ډیر شدت سره پورته کیږی لیکن په دغه وقت کښی دغه دواړه اوبه له سره پخپلو منځونو کښی نه سره گډیږی. علوی سطحه ئی ترخه او سفلی برخه ئی خوږه وی. د جزر په وقت کښی څه مهال (وخت) چه ترخی اوبه راښکته لویږی نو دغه خوږی اوبه بیا هم هغسی خوږی او لذیذی بی له دی چه لږ څه تغیر پکښی څرگند (ښکاره) وی پاتی کیږی والله اعلم.
د دغو شواهدو په لیدلو سره د دی آیت مطلب بیخی واضح دی یعنی د الله تعالیٰ قدرت ته وگورئ چه د خوږو او ترخو اوبو د یو ځای کیدلو په سبب چه هرومرو (خامخا) یو ځای نه په یو ځای کښی سره گډیږی خو بیا هم دوی سره بیلی جلا (جدا) او ممتازی دی او د دواړو په منځ کښی په ډیرو ځایونو کښی ئی ځمکه حائله او پرده گرځولی ده او هم داسی ئی سرخوشی (ازادی) نه دی پریښی چه د دواړو په زور او قوت سره ځمکه له منځه لری کړه شی او په جبری دول (طریقه) سره یو ځای شی او د ځمکی وجود له منځه ورک کړی بیا په دغو دواړو د هر یوه هغه خوند او مزه چه له هغو سره لازمه ده هم هغه سره پاتی ده او تری بل ته نه ده منتقله شوی او داسی نه دی واقع شوی چه خوږی اوبه تروی یا تروی اوبه خوږی شی گواکی د اوصافو

په اعتبار هره یوه له بلی بیخی بیله او جلا (جدا) ده. وقیل غیر ذلک والراجح عندی هوالاول.
والله اعلم.

وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ مِنَ الْمَاءِ بَشَرًا فَجَعَلَهُ نَسَبًا وَصِهْرًا ۗ وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيرًا ﴿٥٤﴾ وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنفَعُهُمْ وَلَا يَضُرُّهُمْ ۗ وَكَانَ الْكَافِرُ عَلَىٰ رَبِّهِ ظَهِيرًا ﴿٥٥﴾

او هم دغه (الله) هغه (ذات) دی چه پیدا کړی یی دی له اوبو نه بشر انسان پس ګرځولی ئی دی (خاوند د) نسب او سخرګنی، او دی رب ستا ښه قادر. او عبادت کوی (دا مشرکان) بی له الله د هغه شی چه نشی رسولی هیڅ قدر نفع دوی ته (که ئی عبادت وکړی) او نه هیڅ ضرر رسولی شی دوی ته (که ئی عبادت ونه کړی) او دی (جنس د) کافر په (نافرمانی) د رب خپل مددګار (د شیطان شا اړوونکی الله ته).

**تفسیر :** ځینی مفسرین د دی آیت تفسیر داسی کوی الله هغه حکیم مطلق دی چه پیدا کړی ئی دی ده له هغو اوبو چه ختنه د آدم علیه السلام پری اخښلی شوی ده یا چه جزء دی د انسان یعنی له څلورو عناصرو ده یا له منی د انسان پس بیا ګرځولی دی ده دغه انسان دوه قسمه یو څښتن (خاوند) د نسب چه هغه خاص نارینه دی او د نسب نسبت هم دوی ته کاوه شی لکه فلان بن فلان او فلانة بنت فلان او بل څښتن (خاوند) د صهر چه هغه خاص نارینه دی او د نسب نسبت د مصاهرت هم هغوی ته کاوه شی او صهر لور ته او ځوم ته او اوښی ته او د ښځی خینې ته ویلی شی یا نو پس بیا ئی وګرځولی دوه قسمه یو یواځی خاوند د نسب او د خپلوی چه ورسره حرامه وی نکاح او خاوند د سخروالی چه ورسره حلاله وی نکاح یعنی وګوره! چه الله برحق خالق مطلق جل وعلا شانه وعظم برهانه په څه شان پخپل کامل قدرت سره ئی له یوه خاځکی اوبو څخه عاقل کامل بنی آدم جوړ کړی دی بیا وروسته له دی نه نور نسلونه ئی تری ایستلی دی د ځوماتو او سخرانو تعلقات ئی تری جوړ کړی دی او له یوه ناڅیزه خاځکی څخه ئی څه څه شیان پیدا کړی دی او له کومه ځایه ئی تر کوم ځایه پوری ئی رسولی دی؟ لیکن دغه انسان په لړ مدت کښی خپل اصل هیروی او خپل هغه قدیر رب او خالق ئی پریښی دی. او عاجز مخلوق ته خپل خالق وائی نه یواځی خپل د پروردګار حق نه پیژنی بلکه له هغه څخه مخ ګرځوی او په شیطانی فوج کښی خپل ځان داخلوی څو د اغواؤ او اضلالو په مقاصدو کښی له هغوی سره کومک او مدد وکړی. نعوذ بالله من شرور انفسنا ومن سیآت اعمالنا.

وَمَآ أَرْسَلْنٰكَ إِلَّا مُبَشِّرًا وَّنَذِيرًا ﴿٥٦﴾ قُلْ مَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِلَّا مَن شَآءَ أَن يَتَّخِذَ إِلٰى رَبِّهِۦ سَبِيلًا ﴿٥٧﴾

او نه ئې لیږلی مونږ ته مګر زیری کوونکی (مؤمنانو ته په نعیم سره) او ویرووونکی (کافرانو ته په جحیم سره) ووایه (ای محمده دوی ته) نه غواړم زه له تاسی په دی (پیغام رسونه) هیڅ قدر اجر مزدوری مګر (غواړم ایمان راوړل د) هغه چا چه خوښه ئې شي دا چه ونیسی طرف د رب خپل ته لیاره (د رضاء او قرب) یا لیکن هغه څوک چه غواړی چه ونیسی خپل رب ته لیاره (په انفاق د مال سره لیاره د رضاء د ده نو و دی نیسی رب خپل ته هم هغه لیار د قرب او رضاء).

**تفسیر** : یعنی ستاسی کار د الله تعالیٰ پر وفاداری او اطاعت د بشاراتو اورول دی او غدارانو ته مجرمانو ته د دوی د خرابو نتائجو او عواقبو خبرول دی که سره له هغه ئې ونه منی یا ئې ومنی تاسی ته له هغه ځنې هیڅ نقصان نه دی عائد. تاسی له دوی نه څه اجرت او حق الزحمه خو نه غواړئ چه د هغو د نه منلو په اثر به هغه فوت شي تاسی خو له دوی نه یوائې هم دغومره شی غواړئ هر څوک چه غواړی د پاک الله په توفیق خپل د رب لیاره ونیسی! زړه مو چه هم دغه ته مزدوری وائی که حق الزحمة او فیس.

وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِى لَا يَمُوتُ وَسَبِّحْ بِحَمْدِهِۦ ۚ وَكَفٰى بِهِۦ بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ خَبِيرًا ﴿٥٨﴾

او توکل وکړه په تل ژوندی قائم په تدبیر هغه (الله) چه (له سره) نه مری او تسبیح ووایه سره له ثناء د ده، او بس کافی دی هغه په ګناهونو د بندګانو خپلو ښه خبردار.

**تفسیر** : یعنی تاسی یوائې پر الله تعالیٰ اعتماد او توکل وکړئ او خپله فریضه چه دعوت او تبلیغ او نور دی په ښه شان سره اداء کړئ! د هیچا د مخالفت او موافقت پروا ونه کړئ! پر فانی اشیاؤ به څه اعتماد او اعتبار وشی؟. اعتماد او توکل ښائی پر هغه ذات وکړ شي چه تل ژوندی قائم په تدبیر دی او له سره نه مری. نو پر هم هغه باندی توکل او اعتماد وکړئ! او تل

د هم هغه په حمد او ثناء مشغول او لگیا اوسئ! دغو مجرمینو ته به پخپله الله تعالیٰ سزا ورکړي.

الَّذِىْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِىْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ۚ اَلرَّحْمٰنُ فَسْـَٔلْ بِهٖ خَبِيْرًا ﴿۵۹﴾

هغه (الله) چه پیدا کړي ئې دي آسمانونه او ځمکه او هغه چه په منځ د دغو دواړو کښې دي په (مقدار) د شپږو ورځو بیا قائم مستولي شو (امر او حکم د الله) پر عرش (الله چه دی) ډیر مهربان دی پس وپوښته (د دغه خلق او استواء یا د رحمان) له کوم ښه خبردار عالم نه.

**تفسیر** : د «استواء علی العرش» بیان د «الاعراف» په سورت کښې تیر شو. هلته دې ولوستلی شي.

یعني له هغو کسانو څخه پوښتنه وکړئ چه د الله تعالیٰ له شان او رحمت او له ذات او صفات څخه پوره خبردار دي دغه جاهلان مشرکان په هغه باندې څه پوهیږي (وما قدروا الله حق قدره) پخپلو شیونو او کمالاتو باندې خو پوره عالم یواځې هم هغه الله تعالیٰ دی. «**انت کما اثنیت علیٰ نفسک**» لیکن په مخلوقاتو کښې له ګردو (تولو) څخه ډیر پوه حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم دی چه د دوی په لوی ذات کښې الله تعالیٰ د اولینو او آخرینو ګرد (تول) علوم جمع کړي دي. نو ښائي چه د الله تعالیٰ د شیونو پوښتنه له دوی نه وشي.

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اسْجُدُوْا لِلرَّحْمٰنِ قَالُوْا وَمَا الرَّحْمٰنُ ۗ اَنَسْجُدُ لِمَا تَاْمُرُنَا وَزَادَهُمْ نُفُوْرًا ﴿۶۰﴾

او کله چه وویلې شي دوی ته چه سجده (د عبادت) کوئ رحمٰن ته نو وائي څه شیز دی رحمٰن؟ آیا سجده به کوو مونږ هر هغه شیز ته چه امر کوی ته مونږ ته او زیاتوی (دغه یادول د رحمٰن) دوی ته نفرت (له ایمان نه).

**تفسیر** : یعنې دغه جاهلان مشرکان د رحمٰن د شان له عظمته څه خبر دي؟ او څه پرې پوهیږي دوی خو له دغه نوم سره دومره ښه هم نه دي او هر کله چه دغه نوم آوري نو د انتهائي جهل او بی حیائی او تعنت له مخې ځانونه ناجانه او ناواقفه غورځوي. او داسې پوښتنې کوي چه

«رحمٰن» څه شي دی؟ چه پر مونږ باندی د هغه سجده کوی؟ آیا محض ستا په وینا سره مونږ دغه خبره ومنو؟ او هم دا چه ته کوم نوم یاد کړی نو مونږ خامخا ورته سر په سجده ولوېږو؟ الغرض هومره چه دوی ته د «رحمٰن» د اطاعت انقیاد په لوری توجه ورکړه شی هغومره دوی بد وړی او تور ور څخه خوری.

تَبٰرَكَ الَّذِیْ جَعَلَ فِی السَّمَآءِ بُرُوْجًا وَّجَعَلَ فِیْهَا سِرٰجًا وَّقَمَرًا مُّنِیْرًا ﴿۶۱﴾
وَهُوَ الَّذِیْ جَعَلَ الَّیْلَ وَالنَّهَارَ خِلْفَةً لِّمَنْ اَرَادَ اَنْ یَّذَّكَّرَ اَوْ اَرَادَ شُكُوْرًا ﴿۶۲﴾

لوی برکتناک دی هغه ذات چه پیدا کړی ئی دی په آسمان کښی برجونه او پیدا کړی ئی ده په کښی ډیوه (لمر) او سپوږمی روښانه. او هم دا (الله) هغه (ذات) دی چه ګرځولی ئی ده شپه او ورځ (سره مخالف یا خلیفه یو د بل) پرله پسی دپاره د هغه چا چه اراده لری د دی چه یاد کړی (نعمتونه د رب ستا او فکر وکړی په مصنوعاتو د الله) یا اراده لری د شکر ایستلو.

**تفسیر :** یعنی لوی لوی ستوری یا آسمانی قلعی چه پرښتی پکښی پیری ورکوی. یا امکان لری چه د لمر دولس منازل تری مراد وی چه اهل هیئت ئی بیانوی حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی چه «د آسمان دولس برخی د هغو نوم برج د هر یو د خدامو ښه دغه حدود ئی ایښی دی دپاره د حساب «موضح»
(سراجاً) یعنی لمر ښائی د نور او حرارت د جمع کیدلو یا د احراق د صفت لرلو له سببه ئی هغه ته (ډیوه) ویلی وی: ﴿ وَّجَعَلَ الْقَمَرَ فِیْهِنَّ نُوْرًا وَّجَعَلَ الشَّمْسَ سِرَاجًا ﴾ د نوح (۱) رکوع ۱۶ آیت (۲۹) جزء).
اوړیدلو او لنډیدلو ته یا تلو او راتلو ته ئی بدلیدل پرله پسی راتلل وفرمایل یا ئی دا مطلب دی چه یو ئی د بل بدل ګرځولی دی. مثلاً که د ورځی کار پاتی شی د شپی ئی پوره کوی. او که د شپی کار پاتی شی د ورځی ئی په سر رسوی. کما ورد فی الحدیث.
(لمن اراد ان یذکر او اراد شکوراً۔ دپاره د هغه چا چه اراده لری د دی چه یاد کړی نعمتونه د رب ستا او فکر وکړی په مصنوعاتو د الله یا اراده لری د شکر ایستلو) یعنی د لمر او سپوږمی او د نورو وړاندی وروسته ختل. او د شپی او د ورځی تبدیل تزئید او تنقیص د دی لامله ( له وجی) واقع کیږی څو د عقل او فکر خاوندان دی پکښی غور او دقت وکړی او د دغو مخلوقاتو په وسیله خلق د خپل خالق د معرفت لیاره پیدا کړی او ښه ئی وپیژنی. او ښه وپوهیږی چه دغه ګرد (تول) لوی تصرفات او عظیمه تقلبات د ده د قدرت کارونه دی او د شپی او د ورځی د فوائدو او انعاماتو له لیدلو څخه د ده د عبادت او شکر ایستلو ته متوجه شی لکه چه د رحمان

مخلص بندگان چه د هغوی ذکر وروسته راځی هم داسی کوی. یعنی د مشرکینو په شان د رحمٰن د نامه له اوریدلو څخه کرکه او نفرت نه ښکاره کوی. بلکه په خپل هر فعل او قول د هغه د عبودیت اظهار کوی د دوی د وضعیت او هیئت څخه تواضع، متانت، تذلل، عجز او نیاز څرگندیږی (ښکاره کیږی) د متکبرانو په شان پر ځمکه په ناز، نخره او غرور نه گرځی، دا ئی مطلب نه دی چه د ریاء او تصنع لامله ( له وجی) به د رنځورانو په شان قدمونه پورته کوی ځکه چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه تګ چه په احادیثو کښی منقول دی. د هغه تائید نه کوی.

وَعِبَادُ الرَّحْمٰنِ الَّذِيْنَ يَمْشُوْنَ عَلَى الْاَرْضِ هَوْنًا وَّاِذَا خَاطَبَهُمُ الْجٰهِلُوْنَ قَالُوْا سَلٰمًا ﴿۶۳﴾

او بندگان د رحمٰن هغه کسان دی چه گرځی دوی په ځمکه باندی په ورو (په تواضع) او کله چه خطاب کوی له دوی سره جاهلان ناپوهان نو وائی (ورته په جواب کښی سلام، خبره) سالمه (له گناه او ضرره).

**تفسیر :** یعنی د کم عقلو او بی ادیانو او ناپوه خلقو جواب په عفوه او صفح سره ورکوی. کله چه څوک څه د جهالت خبری او اتری وکری نو ملائمی مذاکری او پستی خبری ورسره کوی او په «السلام» سره تری ځان بیلوی. او د داسی خلقو سره حتی‌الامکان نه مخامخ کیږی او نه له هغوی سره په کومه مرکه کښی شاملیږی. او نه له دوی سره جنگ او جگری کوی. د دوی تګ او شیوه داسی نه ده لکه چه په جاهلیت کښی چا داسی ویلی ؤ.

الا لا یجهلن احد علینا فنجهل فوق جهل الجاهلین.

دغه خو د رحمٰن د هغو مخلصو بندگانو ورځ وه. وروسته له دی نه د دوی د شپی کیفیت بیان فرمائی:

وَالَّذِيْنَ يَبِيْتُوْنَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَّقِيَامًا ﴿۶۴﴾

او (بندگان د رحمٰن) هغه کسان دی چه شپه تیروی رب خپل ته سجده کوونکی او دریدونکی.

**تفسیر :** یعنی د شپی له مخی چه غافل بندگان خوبونه کوی. دوی د الله جل جلاله په حضور کښی ولاړ وی او ورته سجده یږدی. او په عبادت کښی ئی لگیا وی. کله چه رکوع د قیام او سجدی په منځ کښی واقعه ده ښائی د هم دی لامله ( له وجی) د هغی ذکر ئی

بیل ونه فرمایه. ګواکی رکوع د دغو دواړو په منځ کښې بالطبع راغله.

وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ ۖ إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا ﴿٦٥﴾ إِنَّهَا سَاءَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا ﴿٦٦﴾

او (بندګان د رحمان) هغه کسان دی (چه سره له طاعته خضوعاً) وائی ای ربه ځمونږه وګرځوه له مونږ څخه عذاب د دوزخ بیشکه عذاب د دغه (دوزخ) دی (عذاب) لازم همیشه بیشکه چه دا (دوزخ) بد دی له جهته د ځای د قرار او له جهته د ځای د هستوګنی.

**تفسیر :** یعنی سره له دومره عبادته ډیر ویریږی داسی نه دی چه مثلاً د تهجد دپاره چه پاڅید او اته رکعته لمونځ ئی وکړ. نو د الله تعالیٰ له عذابه او قهره بیخی بی فکره شو.

وَالَّذِينَ إِذَا أَنْفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا وَكَانَ بَيْنَ ذَٰلِكَ قَوَامًا ﴿٦٧﴾

او (بندګان د رحمٰن) هغه کسان دی کله چه نفقه ورکوی مال لګوی نو نه اسراف کوی او نه تنګی (او بخل) کوی او وی (دغه ورکړه د دوی) په منځ د دغه (اسراف او تقتیر) کښې میانه حاله.

**تفسیر :** یعنی زمان او مکان او موقع ته ګوری او په معتدل او متوسط صورت سره خپل مال لګوی نه د مال په محبت کښې له حده تیریږی او نه ئی ضائع کوی کما قال الله تعالیٰ ﴿وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ﴾ الآیة - جزء ١٥ د سورت بنی اسرآئیل ٣ رکوع ٢٩ آیت .

وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ ۚ

او (بندګان د رحمان) هغه کسان دی چه نه بولی سره له الله معبود بل او نه وژنی دوی نفس هغه چه حرام کړی دی الله (وژل د هغه) مګر په حق سره او

نه کوی دوی زناء.

**تفسیر :** مثلاً د عمد قتل په بدل کښې وژل. یا د زناء په سزا کښې د محصن زانی په گټو سره ویشتل یا د هغه مرتد وژل چه خپل اسلامی دین او ملت پریږدی. دغه گرد (تول) صورتونه په «الا بالحق» کښې شامل دی. کما ورد فی الحدیث.

وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ يَلْقَ أَثَامًا ﴿٦٨﴾

او هر چا چه وکړه (یو له دغو دریو امهات الذنوب نه) نو ملاقات به وکړی وبه وینی جزاء د گناه خپلی.

**تفسیر :** یعنی ډیره سخته گناه ئی کړی ده چه د هغه سزا به هرومرو (خامخا) وررسیږی. په ځینو روایاتو کښې راغلی دی چه «اثام» د جهنم د یوی کندی نوم دی چه د هغه عذاب ډیر سخت ویروونکی بیان شوی دی اعاذنا الله منها.

يُضَاعَفْ لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيَخْلُدْ فِيهِ مُهَانًا ﴿٦٩﴾

چه دوچند به کړی شی ده ته عذاب (د دوزخ) په ورځ د قیامت کښې او تل به پاتی وی په دغه (عذاب) کښې په دی حال چه خوار ذلیل بی اعتبار به وی.

**تفسیر :** یعنی له نورو گناهونو ځنی دغه گناه لویه ده نو د دغی عذاب به هم سخت او لوی وی او شیبه په شیبه (ساعت په ساعت) لا پسی زیاتیږی.

إِلَّا مَن تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَأُولَٰئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ ۗ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٧٠﴾

مگر هغه چه توبه ئی وویسته او ایمان ئی راوړ او عمل ئی وکړ عمل نیک پس دغه (تائبان د دغو دریو گناهونو چه دی) بدل به کړی الله گناهونه د دوی په نیکیو سره (په محو د سیآتو او ثبت د حسناتو) او دی الله ښه مغفرت کوونکی ډیر رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره).

**تفسير :** يعني د ګناهونو په ځای به د نيکيو توفيق ور په برخه کيږي او د کفر ګناه به ورمعافيږي يا دا چه د ده بدی محو او لرې کيږي او د صالح عمل په برکت به د هغه په شمير مناسب محاسن ورثبت فرمائی کما يظهر من بعض الاحاديث.

وَمَن تَابَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَإِنَّهُ يَتُوبُ إِلَى اللَّهِ مَتَابًا ﴿٧١﴾

او هر څوک چه توبه وباسی (له ګناهونو نه) او عمل وکړی نيک پس بيشکه چه دی رجوع کوی په طرف د الله په ښه رجوع کولو سره.

**تفسير :** پخوا د هغو کفارو د ګناهونو ذکر ؤ چه وروسته ايمان راوړی دغه د هغو ګناهونو ذکر دی چه سره له اسلامه ئی کوی دغه هم کله چه توبه وکړی يعنی په پوره اخلاص او صميميت سره توبه وباسی او بيا له سره د هغه شاو خوا ته ونه ګرځی نو د الله تعالیٰ په حضور کښی ځای مومی د النساء د سورت په (۱۳) رکوع ۹۳ آيت دغه آيت د هغو قاتلينو په حق کښی دی چه دغسی توبه ئی نه وه ايستلی ﴿وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا﴾ والله اعلم.

وَالَّذِينَ لَا يَشْهَدُونَ الزُّورَ وَإِذَا مَرُّوا بِاللَّغْوِ مَرُّوا كِرَامًا ﴿٧٢﴾

او (بندګان د رحمان) هغه کسان دی چه نه حاضريږی نه شامليږی په باطلو کښی (يا نه وائی شاهدی په دروغو) او کله چه تيريږی پر چتی (بيکاره) کار نو تيريږی ځان ساتونکی (مخ ګرځوونکی له لغوی نه).

**تفسير :** يعنی نه دروغ وائی او نه د دروغو شهادت ورکوی او نه د باطلو چارو او د ګناهونو په مجلسونو کښی حاضريږی.
حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليکی: «يعنی په ګناه کښی نه شامليږی او د لوبو په خبرو کښی غور او دقت نه کوی او نه په هغه کښی شامليږی او نه له دوی سره جنګ کوی.»

وَالَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ لَمْ يَخِرُّوا عَلَيْهَا صُمًّا وَعُمْيَانًا ﴿٧٣﴾

او (بندګان د رحمان) هغه کسان دی کله چه پند ورکړی شی دوی ته په آیتونو د رب د دوی نو نه نسکوریږی پری (لکه) کانه او ړانده (بلکه سر په سجده ږدی اوری ئی او پری عمل کوی)

**تفسير :** او په نهایت فکر او تدبیر او غور سره ئی آوری او تری متأثریږی او د مشرکانو په شان دوی د تیږی (ګټی) بتان له خپلو ځانونو څخه نه جوړوی.

وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ

او (بندګان د رحمان) هغه کسان دی چه وائی ای ربه ځمونږ وبښه مونږ ته (په فضل خپل سره) له ښځو ځمونږ څخه او له اولادو ځمونږ څخه (هغه څوک چه) یخوالی د سترګو ځمونږ پکښی راځی.

**تفسير :** یعنی داسی ښځه او واړه راعنایت وفرمایه چه د هغو د لیدلو څخه ځمونږ سترګی یخی او رنی شی. او زړه مو خوشال شی او ظاهر دی چه د کامل مؤمن زړه هلته خوښ او خوشالیږی کله چه خپل آل او عیال د الله تعالیٰ په طاعت او عبادت کښی مشغول او لګیا ووینی، او ویی ګوری چه د نافع علم تحصیل کوی. نو ګرد (تول) دنیوی مسرتونه او نعمتونه وروسته له دغه دی.

وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا ﴿٧٤﴾

او وګرځوه مونږ دپاره د متقیانو امام پیشوا.

**تفسير :** یعنی داسی مو وګرځوی کله چه نور خلق پر مونږ پسی اقتداء وکړی متقیان او پرهیزګاران وګرځی حاصل ئی دا چه نه یواځی مونږ پخپل ذات مهتدیان شو بلکه د نورو دپاره هم هادیان وګرځو او ځمونږ کورنی په تقویٰ او طهارت کښی ځمونږ تابعان او پیروان شی.

أُولَٰئِكَ يُجْزَوْنَ الْغُرْفَةَ بِمَا صَبَرُوا وَيُلَقَّوْنَ فِيهَا تَحِيَّةً وَسَلَامًا ﴿٧٥﴾

دغه کسان (موصوف په دغو صفاتو سره) جزا به ورکوله شی دوی ته په هسکو (اوچتو) مانیو (د جنت) په سبب د هغه چه صبر ئی کړی ؤ او وابه چولی شی پر دوی په دغه جنت کښی تحیت دعاء او سلام.

**تفسیر :** یعني په جنت کښې به لوړې (اوچتې) درجې وروړسیږي او پرښتې به دعاوې ورته کوي او سلامونه به وراچوي. او دوی ته به ښه راغلي وائي. او استقبال به ئې کوي. دوی به هم پخپلو منځونو کښې د ملاقات او لیدلو په اوقاتو کښې هم دغه د سلام او د تحیت دعائیه کلمات د یوه او بل د تکریم او اعزاز دپاره استعمالوی.

خٰلِدِیۡنَ فِیۡهَا ؕ حَسُنَتۡ مُسۡتَقَرًّا وَّ مُقَامًا ﴿۷۶﴾

همیشه به وی دوی په دغه (جنت) کښې ښه دی (دغه جنت) له جهته د ځای د قرارۍ او له جهته د ځای د هستوګنې.

**تفسیر :** یعني د داسې ځای هستوګنه که د لږې مودې دپاره هم چاته میسره او په لاس ورشي خو لوی غنیمت او ښه نعمت دی حال دا چه دغه ځای خو د جنتیانو د دائمي اوسیدلو ځای دی.

قُلۡ مَا یَعۡبَؤُا بِکُمۡ رَبِّیۡ لَوۡ لَا دُعَآؤُکُمۡ ۚ فَقَدۡ کَذَّبۡتُمۡ فَسَوۡفَ یَکُوۡنُ لِزَامًا ﴿۷۷﴾

ووایه (ای محمده دوی ته چه) نه کوی هیڅ پروا د تاسی رب ځما که چیرې نه وی دعاء بلل ستاسی (الله ته په سختیو کښې) او په تحقیق تکذیب کړی دی تاسی (د رسولانو او د قرآن) پس ژر به شی ( دا عذاب له تاسی سره جزاء د تکذیب) لازم.

**تفسیر :** یعني تاسی ته ستاسی د نفعې او د نقصان خبری در وښیی بنده ته ښائی چه له سره مغرور او بی باکه نشی ځکه چه پاک الله له سره د ده پروا نه لری. هو! که بنده الله جل جلاله ته التجاء او دعاء کوی نو الله هم پری رحم او کرم فرمائی. او که التجاء نه کوی. او ځان لوی او بی پروا ښکاروی نو د الله تعالیٰ هغی سزاء او پوښتنې ته منتظر اوسی چه عنقریب ورسره مخامخ کیدونکی دی.

﴿ لَوۡ لَا دُعَآؤُکُمۡ ﴾ : که چیری نه وی دعاء بلل ستاسی الله ته په سختیو کښی نو په تحقیق تکذیب کړی دی تاسی د رسولانو او د قرآن پس ژر به شی دا عذاب له تاسی سره جزاء د تکذیب لازم) یعني هغه کافر چه حق ته ئې د دروغو نسبت کړی دی نو دغه تکذیب به عنقریب د ده د غاړې امیل ګرځی او د هغه د سزا او د پوښتنې څخه به له سره خلاصی او نجات نه مومی. د آخرت ابدی هلاکت خو هرومرو (خامخا) د دوی دی لیکن په دنیا کښی به هم لږ، ډیر ربړ (زحمت) او تکلیف او آفت دوی ته رسیدونکی وی. یعني په جهاد، جنګونو او نورو کښی لکه چه د «بدر» په غزا کښی ئې د دغه تصادم او آفت نتیجه پخپلو سترګو سره ولیده.

**تمت سورة الفرقان بعون الله المنان ولله الحمد والمنه**

سورة «الشعراء مكية الا آية ١٩٧ ومن آية (٢٢٤) الى آخر السورة فمدنية وهى (٢٢٧) آية و (١١) ركوعا رقم تلاوتها (٢٦) تسلسلها حسب النزول (٤٧) نزلت بعد «الواقعة» د «الشعراء» سورت مكى دى پرته (علاوه) له (١٩٧) آيته او له (٢٢٤) تر آخر د سورت پورى چه مدنى دى (٢٢٧) آيته (١١) ركوع لرى په تلاوت كښى (٢٦) او په نزول كښى (٤٧) سورت دى. وروسته د «الواقعة» له سورت څخه نازل شوى دى.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع) په نامه د الله چه خورا (زيات) مهربان ډير رحم والا دى.

طٰسٓمٓ ﴿١﴾ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ﴿٢﴾ لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ اَلَّا يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ﴿٣﴾

دا (آيتونه د دى سورت) آيتونه دى د كتاب ښكاره كوونكى (د حق له باطله او د حلال له حرامه) يعنى د دى كتاب اعجاز ظاهر او باهر دى. او احكام ئى واضح دى او د حق او باطل په منځ كښى بيلوونكى دى. ښائى چه ته هلاكوونكى د ځان خپل ئى (اى محمده)! په دى چه نه كيږى دوى مؤمنان.

**تفسير** : يعنى د دغو بدبختانو په غم كښى تاسى خپل ځان دومره مه كروئ! او مه پخسيږئ! آيا پر دوى پسى تاسى خپل ځان هلاكوئ!؟. آخر زړه سوى او شفقت هم يو حد لرى.

اِنْ نَّشَاْ نُنَزِّلْ عَلَيْهِمْ مِّنَ السَّمَآءِ اٰيَةً فَظَلَّتْ اَعْنَاقُهُمْ لَهَا خٰضِعِيْنَ ﴿٤﴾

كه اراده وفرمايو مونږ نو نازل به كړو مونږ پر دوى له (طرفه) د آسمانه يو دليل (د قدرت) پس شى به ورميږونه د دوى هغه (دليل د قدرت) ته غاړه ايښودنكى.

**تفسير** : يعنى دغه دنيا د ابتلاء ځاى دى چه پكښى د بندګانو د انقياد او تسليم او د

سرکشي امتحان اخيست کيږي نو ځکه د الله تعالیٰ حکمت د دې خبرې مقتضي نه دې چه د
هغوی اختيار سلب کړ شي که نه که الله تعالیٰ اراده فرمايلي وی نو کومه داسي آسماني نښه به
ئې ورښوولي وه چه د هغې په مقابل کښې به ګردو (ټولو) خلقو قهراً او جبراً خپلي غاړې
کيښودی. او ډيرو لويو لويو مشرانو ته به هم د دې خبرې قدرت او فرصت او موقع نه وی پاتي
چه تری انکار او انحراف وکړی نو الله تعالیٰ داسي ونه کړه هو! هغه معجزې او نښي ئې وليږلي
چه د هغو په ليدلو انسان حق او حقيقت په آساني سره وپيژندلي شي او کله کله د هغه په
مقابل کښې مغلوب هم شي. او د غاړې کيښودلو څخه ځان ونشي ژغورلی.(بچ کولی)

وَمَا يَأْتِيهِم مِّن ذِكْرٍ مِّنَ الرَّحْمَٰنِ مُحْدَثٍ إِلَّا كَانُوا عَنْهُ مُعْرِضِينَ ⑤

او نه راځي دوی ته هيڅ ذکر پند وعظ له (طرفه) د رحمان نوی مګر وی
دوی له هغه (پند) څخه مخ ګرځوونکي (او لا کلکيدونکي په کفر خپل).

**تفسير** : يعني د هغو خلقو په غم کښې چه تاسي اخته يئ د دوی حالت دا دی چه هر کله
رحمان جل جلاله پخپل رحمت او شفقت سره د دوی د ښيګڼې (فائدې) او نيکۍ دپاره کوم پند
او نصيحت ليږي دوی هغه طرف ته نه متوجه کيږي. بلکه خپل مخونه ګرځوی او تری تښتي او
داسي راښکاره کوی لکه چه له کوم بد شي سره مخامخ شوی دی.

فَقَدْ كَذَّبُوا فَسَيَأْتِيهِمْ أَنبَاءُ مَا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ⑥

پس په تحقيق تکذيب وکړ دوی (د هغه ذکر يا د محمد) پس ژر به راشي
دوی ته عواقب حقائق د هغه (شيز) چه وو دوی چه په هغه باندې به ئې
مسخرې کولې.

**تفسير** : يعني يواځي هم دغه معمولي اعراض نه دی بلکه له هغه سره لا تکذيب او استهزاء هم
دی نو دوی به عنقريب په دنيا او آخرت کښې د خپلو اعمالو سزاء وګوری. نو بيا به د هغه
شيز په حقيقت باندې به ښه شان سره وپوهيږی چه په کوم شي باندې چه مونږ مسخرې کولې او
ملنډی (خندا) مو پرې وهلې او تکذيب به مو کاوه هغه احکام الله حق او صحيح ؤ.

أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَى الْأَرْضِ كَمْ أَنبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ

زَوۡجٖ كَرِيمٍ ۞ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ ۞ ٨

آیا نه ګوری دوی ځمکی ته چه (په خپل بالغه حکمت سره) څومره زرغونه کړی ده مونږ په دغه (ځمکه) کښی له هره قسمه هره ډوله (طریقه) (جنس) ګیاه ښه کثیرالمنافع مخصوص شیان بیشکه په دغو (زرغونولو کښی) خامخا دلیل ښنه ده (لویه د قدرت)، او نه دی زیاتره د دوی مؤمنان.

**تفسیر :** یعنی که دغو مکذبینو د دغی ځمکی پر احوال غور او فکر چلولی وی چه د دوی تر پښو لاندی لویدلی ده نو د مبدأ او معاد په معرفت حاصلولو کښی به هغه د دوی دپاره کافی کیدلی شوی آیا دوی نه ګوری چه له دغه ذلیلی، خواری او حقیری خاوری څخه څرنګه عجیب، غریب او رنګ په رنګ ګلان، میوی، دانی او قسم په قسم غلی او نور شیان تر یوه مضبوط اصول او د تکوین او نظام تر قوانینو لاندی پیدا کیږی ؟، آیا دغه د دی خبری دلیل نه دی چه کوم لا محدوده قدرت او حکمت لرونکی صانع دغه له ښائست ډک او سینګاری چمن دغه ښه او ښکلی ګلان کړلی دی چه د هغه په واک (اختیار) او قبضه کښی د وجود او ګردو (تولو) موجوداتو زمام او اختیار هم دی. او دی هم هغه ذات دی هر کله چه اراده وفرمائی هغه ورانولی هم شی. وروسته له ورانی د هغه دوهم ځلی ودانی هم د ده په قدرت کښی ده بیا سره د دغو تکوینیهؤ آیاتونو د پوهیدلو څخه وروسته ولی تاسی د دغو تنزیلیهؤ آیاتونو تصدیق نه کوئ؟ آیا په دغه کښی څه اشکال باقی دی؟ هو! که ئی له سره نه منئ. نو دغه بیله خبره ده.

وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ۞ ٩

او بیشکه رب ستا خامخا هم دی دی ښه قوی غالب (په انفاذ د احکامو) ښه رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره).

**تفسیر :** یعنی الله خو داسی یو عزیز مقتدر او زبردست ذات دی چه د نه منلو په تقدیر علی‌الفور پر منکرینو عذاب هم لیږلی شی. مګر دی پخپله د خپل رحم او کرم له مخی په هغه کښی تأخیر کوی او دوی ته موقع ورکوی چه ګوندی دوی ئی ومنی. وروسته د مکذبینو د عبرت دپاره د څو واقعاتو بیان فرمائی چه له هغو څخه دغه خبره ظاهریږی چه الله تعالیٰ هغوی ته تر کومی اندازی پوری مهلت ورکړی ؤ. کله چه علیٰ رءوس الاشهاد معلوم او ښکاره شو چه هغوی په هیڅ ډول (طریقه) د حق او حقانیت منونکی نه دی نو بیا ئی زیاتره د دوی تباه او برباد کړل. له هغوی څخه لومبی د فرعونیانو قصه ده چه پخوا له دی نه په «الاعراف» او «طٰهٰ» او په نورو سورتونو کښی بالتفصیل تیره شوی ده. او ښائی چه د هم هغو ځایونو په تفاسیرو کښی بیا ولوستل شی.

وَإِذْ نَادَىٰ رَبُّكَ مُوسَىٰٓ أَنِ ٱئْتِ ٱلْقَوْمَ ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿١٠﴾ قَوْمَ فِرْعَوْنَ ۚ أَلَا يَتَّقُونَ ﴿١١﴾

او (ياد كړه) هغه وقت چه غږ وكړ رب ستا موسىٰ ته داسې چه ورشه هغه قوم ته چه ظالمان دی (يعنی) قوم د فرعون ته (چه ډير ظلمونه كوی)، آيا نه ويريږی دوی له (الله).

تفسير : يعنی ای موسىٰ! ته لاړ شه! دوی د الله تعالىٰ له قهره وويروه!.

قَالَ رَبِّ إِنِّىٓ أَخَافُ أَن يُكَذِّبُونِ ﴿١٢﴾ وَيَضِيقُ صَدْرِى وَلَا يَنطَلِقُ لِسَانِى
فَأَرْسِلْ إِلَىٰ هَـٰرُونَ ﴿١٣﴾

وويل موسىٰ ای ربه ځما بيشكه زه ويريږم له دی نه چه نسبت د دروغو به وكړی (دوی ماته) او بل تنګيږی سينه ځما (له تكذيبه د دوی) او (بل) نه چليږی ژبه ځما (صافه خلاصه به وقت د تبليغ كښی) پس وليږه (جبريل په وحی سره) طرف د هارون ته.

تفسير : يعنی قبطيان به ځما د پوره خبری د آوريدلو څخه لا له پخوا ځما په دروغجنولو باندی خوله پرانيځی او په هغه مجلس كښی به می هيڅوک تائيد كوونكی نه وی ممكن دی چه په دغه وقت كښی زه ملول او حزين شم او فكر او طبيعت می خراب شی. او په زړه كښی می خفګان او تنګی راشی او ژبه می چه لكنت او بندش هم لری د زړه د دغه تنګی څخه لا پكښی زيات نيونه او بنديدل څرګند (ښكاره) شی. نو كه ځما د تقويت او تائيد دپاره ځما وزير او ملګری هارون وګرځوی نو ستا زيات لطف او مهربانی به وی ځكه چه هغه لما ځنی فصيح اللسان دی.

وَلَهُمْ عَلَىَّ ذَنۢبٌ فَأَخَافُ أَن يَقْتُلُونِ ﴿١٤﴾

او (بل) شته دوی لره پر ما (دعوی د يوی) ګناه پس ويريږم له دی نه چه مړ

به می کړی.

**تفسیر :** یعنی د یوه قبطی د وینی دعوی چه د هغه تفصیل به د القصص په سورت کښی راځی پر ما باندی دائره ده نو زه ویرېږم چه ښخوا له دعوت او تبلیغه څما کار تمام نه کړی چه دغه خو هم هغه سړی دی چه څمونږ یو قبطی ئی وژلی ؤ او راڅنی تښتیدلی ؤ. نو په دغه تقدیر سره به زه د تبلیغ فرض څرنگه اداء کړی شم؟.

قَالَ كَلَّاۚ فَاذْهَبَا بِاٰيٰتِنَآ اِنَّا مَعَكُمْ مُّسْتَمِعُوْنَ ﴿۱۵﴾

وفرمایل (الله موسیٰ ته) نه ده داسی (مه دارېږه! نه دی شی وژلی) پس لاړ شئ تاسی دواړه په ښکاره‌ؤ معجزو څما بیشکه چه مونږ له تاسی سره یو اوریدونکی (ستاسی د سوال ؤ جواب هم).

**تفسیر :** یعنی قبطیان به څه مجال لری چه تاته لاس در وړی شی. ورڅه! د خپلی استدعاء سره سم هارون علیه السلام هم له خپله ځانه سره بوځه!. او څمونږ له درکړی معجزی او نښی سره ورشه! کله چه د قدرت لوئی نښی له تاسی سره شته نو ولی به ویرېږئ؟ نښی لا څه کوئ چه زه پخپله هم پر هره موقع کښی له تاسی سره موجود یم او د دواړو خواؤ خبری او اتری هم آورم.

فَاْتِيَا فِرْعَوْنَ فَقُوْلَآ اِنَّا رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱٦﴾ اَنْ اَرْسِلْ مَعَنَا بَنِیْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿۱۷﴾

پس ورشئ دواړه فرعون ته نو ووایئ بیشکه چه هر یو څمونږ رسول استاځی د رب د عالمیانو یو په دی خبره باندی چه ولیږه ته (ای فرعونه) له مونږ سره بنی اسرآئیل (اولاده د یعقوب شام ته)،

**تفسیر :** د بنی اسرآئیلو وطن د حضرت ابراهیم علیه السلام په زمانه کښی د شام ملک ؤ. د حضرت یوسف علیه السلام په سبب دوی مصر ته راغلل هلته ئی یو مدت تیر کړ. اوس د الله تعالیٰ اراده داسی وشوه چه دوی ته بیرته هم هغه د شام ملک ورکړی. خو فرعون دوی نه پرېښودل چه شام ته لاړ شی څکه چه له دوی څخنی به ئی د مریانو په شان کار اخیست. او حضرت موسیٰ علیه السلام د بنی اسرآئیلو د آزادی او خپلواکی طالب ؤ.

قَالَ أَلَمْ نُرَبِّكَ فِينَا وَلِيدًا وَلَبِثْتَ فِينَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِينَ ﴿١٨﴾

نو وويل (فرعون موسیٰ ته) آیا تربیت نه ؤ کړی مونږ د تا په (کورونو) خپلو کښې په دی حال کښې چه ووړکی هلک وی او تیر کړی ؤ تا په مونږ کښې له عمره خپله څو کاله (چه دیرش ؤ).

**تفسیر :** یعنی ته هم هغه نه ئی چه په ډیر ناز او نعم ځمونږ په کور کښې ستا پالنه او روزنه شوی وه؟ او ځمونږ په لاس کښې وړوکی لوی شوی وی اوس ستا دماغ دومره لوی شوی دی چه له مونږ څخه داسی مطالبات کوی او خپل مشرتوب پر مونږ ثابتوی.

وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ الَّتِي فَعَلْتَ وَأَنتَ مِنَ الْكَافِرِينَ ﴿١٩﴾

او بل کړی ؤ تا کار خپل هغه کار چه کړی ؤ تا (یعنی ځما قبطی خباز دی وژلی ؤ) حال دا چه ته (ای موسیٰ) له ناشکرانو څخه ئی.

**تفسیر :** په دومره کلونو کښې دی داسی دعوی نه کوله کله چه له دی ځایه څو شپی د باندی لاړی او اوس چه بیرته راغلی نو د رسالت دعوی کوی؟ او ځمونږ هغه ګرد (تول) احسانات دی هیر کړل او اوس دی د نبوت په دعوی لاس پوری کړی دی په هغه وقت کښې ته هم (العیاذ بالله) له هم دغو خلقو ځنی یو سړی وی چه نن ورځ هغو ګردو (تولو) ته کافران وائی.

قَالَ فَعَلْتُهَا إِذًا وَأَنَا مِنَ الضَّالِّينَ ﴿٢٠﴾

وویل (موسیٰ فرعون ته) چه کړی ؤ ما دغه کار په هغه وقت کښې چه وم زه له خاطیانو ناپوهانو.

**تفسیر :** په دی چه مړ به شی په یوه سوک ځما یعنی ما هغه قبطی په عمد سره نه دی وژلی په خطاء سره ځما په یوه سوک سره مړ شو. زه که پوهیدی چه دی ځما په یوه سوک سره مری نو ولی به می تادیب ورکاوه : ﴿ فَوَكَزَهُ مُوسَىٰ فَقَضَىٰ عَلَيْهِ ﴾ (القصص ٢ رکوع ١٥ آیت (٢٠) جزء)

فَفَرَرْتُ مِنْكُمْ لَمَّا خِفْتُكُمْ فَوَهَبَ لِي رَبِّي حُكْمًا وَجَعَلَنِي مِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴿٢١﴾

پس وتښتیدم زه له تاسی کله چه وویریدم زه له تاسی پس وباښه ماته رب ځما حکم علم فهم او وګرځولم (دغه الله) زه له رسولانو څخه.

**تفسیر :** یعنی بیشکه چه زه وویریدم او له دی ځایه وتښتیدم لیکن د الله تعالیٰ دا منظور ؤ چه ماته پخپل فضل او مرحمت سره نبوت او حکمت مرحمت کړی، او د رسالت په کرامت سره می سر لوړی (اوچت) او ممتاز ګرځوی. او ستا په لوری می درولیږی دا دی چه زه په امر د الله سره درغلی یم چه تاته سمه صافه لیاره دروښیم. او دغه څه اظهارات چه تاسی وکړل دغه ګرد (ټول) ځما د صداقت دلیل دی چه هغه سړی چه ستاسی له ویری تښتیدلی ؤ بیا څرنګه داسی بی خوفه او بی خطره ستاسی په مخ کښی نیغ ولاړ دی.؟

وَتِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَيَّ أَنْ عَبَّدْتَ بَنِي إِسْرَائِيلَ ﴿٢٢﴾

او (آیا) دغه (تربیت) یو نعمت دی چه احسان ئی کوی پر ما باندی (چه هغه ستا له شفقته نه ؤ بلکه له دی جهته ؤ) چه مریونه کړی دی ؤ بنی اسرآئیل (اولاده د یعقوب).

**تفسیر :** یعنی ځما د وړوکوالی د پالنی احسان راښرګندول (ښکاره کول) تاته ښه نه ښکاری. آیا د یوه اسرائیلی ووړوکی پالنه او تربیت د دغی خبری جواب کیدی شی چه تا ګرد (ټول) د بنی‌اسرائیلو قوم له ازادی او خپلواکی څخه محروم ګرځولی دی او له دوی سره د بندګانو او مریانو په شان سلوک کوی. بالخصوص چه د دغه وړوکی پالنه هم ستا د هغو زړه چاودونکیو مظالمو او تیریو په سلسله کښی واقع شوی وه که تا هغسی ظلم او تیری نه کولی او ګرد (ټول) بنی اسرائیلی هلکان دی نه وژلی ولی به می مور ژوندی په تابوت کښی غورځولم؟ او بیا هغه تابوت ئی ولی په سیند کښی لاهو کاوه او ولی به زه ستا حرم سرای ته رسیدم؟ د دغو حالاتو له تصوره تاته داسی احسان له څرګندلولو (ښکاره کولو) څخه شرم او ننګ پکار دی او صافه خبره خو دا ده هغه الله تعالیٰ چه ځما تربیت او پالنه ستا په شان د یوه دښمن کره کړی ده هم هغه الله می نن ورځ ستا د خیر غوښتلو او لیار ښوولو دپاره خپل رسول په شان ګرځولی او لیږلی یم.

قَالَ فِرۡعَوۡنُ وَمَا رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٢٣﴾

وويل فرعون (موسیٰ ته) او څه څيز دی رب د عالميانو ؟ .

**تفسير** : يعني موسیٰ عليه السلام د (فقولا إنا رسول رب العالمين) په امتثال خپل ځان ئی د رب العالمين رسول وباله د ده په مقابل كښې فرعون د جحود، تعنت، ضد او عناد له لياری وويل چه (العياذ بالله) رب العالمين څه شی دی؟ سره ځما له وجوده د بل كوم رب نوم اخيستل څه معنی لری؟ ځكه چه د دی ازلی شقی دعوی د خپل قوم په مخ كښې داسی وه: «ما علمت لكم من اله غيری» زه ما سواء له خپل ځانه بل كوم معبود تاسی ته نه پيژنم او «انا ربكم الاعلیٰ: زه يم ستاسی لوی پروردګار» لكه چه د ده قوم به ځينی له انتهائی جهل او بلادت، او ځينی له خوفه او طمعی د ده په عبادت كښی لګياء ؤ. اګر كه په خپل زړه كښې دغه ملعون هم د الله په وجود يقين لرلو لكه چه له ﴿ لَقَدۡ عَلِمۡتَ مَآ أَنزَلَ هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ بَصَآئِرَ ﴾ څخه ظاهريږی د جزء ۱۵ سورة (بنی اسرآئيل ۱۲ ركوع) ۱۰۲ آيت .

قَالَ رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَآۖ إِن كُنتُم مُّوقِنِينَ ﴿٢٤﴾

وويل موسیٰ (په جواب د فرعون كښی) چه رب الْعٰلمين رب د آسمانونو او د ځمكی او د هغو ګردو (ټولو) شيانو دی چه په منځ د دغو دواړو كښی دی كه چيری يئ تاسی يقين كوونكی (نو ايمان پر راوړئ).

**تفسير** : يعني د آسمان او د ځمكی ګرد (ټول) شيان چه د هغه لوی ذات تر اداری او تربيت لاندی دی هم هغه رب العالمين دی كه ستاسی په قلوب كښی پر كوم شی باندی د يقين راوړلو استعداد موجود وی نو انسانی فطرت له ګردو (ټولو) ځينی پخوا پر دغه رب العالمين د يقين كولو دپاره كافی دی.

قَالَ لِمَنۡ حَوۡلَهُۥٓ أَلَا تَسۡتَمِعُونَ ﴿٢٥﴾

وويل (فرعون) دپاره د هغو (مشرانو) چه چاپير ؤ له ده سره چه آيا نه اورئ تاسی (دغه جواب د ده چه نه دی موافق له سواله سره)

**تفسير** : فرعون عمداً او په قصد سره غوښته چه خبره ګډه وده او تالا كړی نو د خپل خوالی

او موالی د تیزولو او تحضیض ورکولو دپاره او د موسٰی علیه السلام د خبری د خفیفولو دپاره ئی داسی وویل « آورئ چه موسیٰ څومره له کاره لری خبری کوی؟ آیا له تاسی څخنی به کوم یو تصدیق کوی چه ماسواء له مانه په آسمان او ځمکه کښی بل کوم رب شته؟»

قَالَ رَبُّكُمْ وَرَبُّ آبَآئِكُمُ الْأَوَّلِينَ ﴿٢٦﴾

وویل (بیا موسیٰ فرعون ته چه رب العٰلمین) رب د تاسی دی او رب د پلرونو د تاسی دی چه ړومبی ؤ.

**تفسیر :** یعنی ای احمقانو زه چه د کوم رب العالمین ذکر کوم هغه داسی یو لوی ذات دی چه ستاسی او ستاسی د پلرونو او نیکه ګانو پیدا کوونکی دی څه وقت چه ستاسی بوی او تخم هم نه ؤ ده په هغه وقت کښی هم د ځمکی او آسمان تربیت او تدبیر کاوه.

قَالَ إِنَّ رَسُولَكُمُ الَّذِي أُرْسِلَ إِلَيْكُمْ لَمَجْنُونٌ ﴿٢٧﴾

وویل (فرعون) بیشکه رسول ستاسی دغه چه لیږلی شوی دی تاسی ته خامخا مجنون لیونی دی.

**تفسیر :** یعنی (العیاذ بالله) یو لیونی ئی رسول ګرځولی او لیږلی ئی دی چه دی نه یواځی مونږ بلکه ځمونږ پلرونه او نیکه ګانو ته هم بد وائی او ځمونږ د دغه شوکت او حشمت څخه لږ څه هم نه متأثر کیږی او نه ئی تری سترګی سوځی. نو معلومیږی چه د ده دماغ او ماغزه بالکل له عقل څخه عاری شوی دی.

قَالَ رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَمَا بَيْنَهُمَا إِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٢٨﴾

وویل (بیا موسیٰ فرعون ته چه رب العالمین) رب د مشرق او (رب د) مغرب او (رب د) هغو ګردو (تولو) شیانو دی چه په منځ د دغو کښی دی که چیری یئ تاسی چه څه قدر عقل کولی شئ (نو ایمان راوړئ په وحدانیت د الله).

**تفسیر :** حضرت موسیٰ علیه السلام بیا یوه داسی خبره وکړه لکه چه حضرت ابراهیم علیه السلام د نمرود په مقابل کښی کړی وه. یعنی رب العالمین هغه ذات دی چه د مشرق او مغرب

مالک دی او د ګردو (تولو) ستوریو د طلوع او غروب تدابیر په یوه تینګ او مضبوط نظام موافق کوی.

که په تاسی کښی لږ څه عقل او پوه وی نو په دغه باندی پخپله هم پوهیدی شئ چه د دغه عظیم الشان نظام قائم ساتونکی ما سواء له الله تعالیٰ څخه بل هیڅوک نشی کیدی. آیا پرته (علاوه) له الله تعالیٰ څخه بل څوک د دی خبری قوت او قدرت لری چه د دغه نظام انتظام په دومره مضبوطی او اهتمام سره وکړی شی؟ یا ئی د یوی دقیقی (شیبی) لپاره مات یا معطل یا بدل کړی؟ د دغی وروستنی خبری د آوریدلو څخه فرعون بالکل متحیر او مبهوت شو او د مباحثی او مجادلی څخه ئی مخ واړاوه او په ویرولو او دارولو سره ئی خپله خوله وسپړدله لکه چه وروسته له دی نه راځی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی: «حضرت موسیٰ علیه السلام د الله تعالیٰ د قدرتونو د ښوولو دپاره یوه خبره کوله . او فرعون په منځ کښی خپلو سردارانو ته تحضیض ورکاوه او دوی به ئی سراښول (پوهول) چه پری یقین ونه کړئ».

قَالَ لَئِنِ اتَّخَذْتَ إِلَٰهًا غَيْرِي لَأَجْعَلَنَّكَ مِنَ الْمَسْجُونِينَ ﴿٢٩﴾

وویل (فرعون موسیٰ ته) قسم دی که چیری ونیو تا خدای غیر له مانه (بل څوک) نو خامخا وبه ګرځومه زه هرومرو (خامخا) تا له بندیانو څخه.

**تفسیر** : په دغه ځلی فرعون خپل مطلب په صافو الفاظو سره ښکاره کړ چه دلته په مصر کښی بل هیڅ یو خدای نشته. که پرته (علاوه) له ما څخی د بل کوم معبود حکومت ومنلی شی نو په یاد ئی ولرئ چه دغسی نورو خدای منونکیو دپاره ځما بندی خانه تیاره ده.

قَالَ أَوَلَوْ جِئْتُكَ بِشَيْءٍ مُبِينٍ ﴿٣٠﴾

وویل (موسیٰ فرعون ته) آیا (نه کوی باور په الوهیت د الله) اګر که راوړم زه تاته دلیل یو شی ښکاره (دلیل ښکاره کونکی)

**تفسیر** : یعنی پخپله دغه فیصله کښی اوس تلوار مه کوه!، دغه خو ستا د خبری جواب ؤ اوس خو لږ هغه ښکاره معجزی هم وګوره چه په هغو سره د الله تعالیٰ قدرت او ځما صداقت دواړه در څرګندیږی (ښکاره کیږی) . ښه که زه داسی ښکاره معجزی هم وښیم. بیا به هم ستا فیصله هم دغه وی.

قَالَ فَأْتِ بِهٖٓ إِن كُنتَ مِنَ الصَّٰدِقِينَ ﴿٣١﴾ فَأَلْقَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ ﴿٣٢﴾
وَنَزَعَ يَدَهُۥ فَإِذَا هِيَ بَيْضَآءُ لِلنَّٰظِرِينَ ﴿٣٣﴾ قَالَ لِلْمَلَإِ حَوْلَهُۥٓ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٌ
عَلِيمٌ ﴿٣٤﴾ يُرِيدُ أَن يُخْرِجَكُم مِّنْ أَرْضِكُم بِسِحْرِهِۦ فَمَاذَا تَأْمُرُونَ ﴿٣٥﴾

وویل (فرعون موسٰی ته) پس راوړه هغه (ښکاره دلیل) که ئی ته له صادقانو رښتیا ویونکیو (په دعوی خپله کښی) پس وغورځوله (موسٰی) همسا خپله پس ناڅاپه په دغه وقت کښی وه هغه یو ښامار ښکاره ظاهر او راوئی ایست لاس خپل (له دننه د ګریوان خپل) پس ناڅاپه دغه (لاس) ؤ تک سپین (نظر د) کتونکیو ته نو وویل (فرعون) اشرافو (د قوم) ته چه چاپیر د ده (ناست ؤ) بیشکه دغه (سړی) خامخا ساحر (کوډګر) دی ډیر پوه اراده لری د دی چه وباسی تاسی له ځمکی (وطن) ستاسی په سحر (کوډو) خپل پس څه (امر حکم مشوره) راکوئ تاسی (ماته د موسٰی په باره کښی)

**تفسیر :** فرعون چه تر اوسه پوری د خدائی مدعی ؤ اوس داسی وارخطا او بدحواسه شوی دی چه له خپلو مریانو، نوکرانو، او د ده په زعم له خپلو بندګانو څخه مشوری غواړی. او دی ته حاضر دی چه د هغو پر ښوونه تګ هم وکړی.

قَالُوٓا۟ أَرْجِهْ وَأَخَاهُ وَٱبْعَثْ فِى ٱلْمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ﴿٣٦﴾ يَأْتُوكَ بِكُلِّ
سَحَّارٍ عَلِيمٍ ﴿٣٧﴾ فَجُمِعَ ٱلسَّحَرَةُ لِمِيقَٰتِ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ﴿٣٨﴾

وویل (مشرانو) تاخیر ورکړه (کار د) دغه (موسٰی) ته او ورور د ده (هارون) ته او ولیږه په ښارونو کښی راټولونکی (محصلان) چه راولی تاته هر ښه ساحر (کوډګر) ښه پوه هښیار پس راټول کړل شول ساحران وعدی د ورځی معلومی ته (چه خاښت د ورځی د جشن ؤ)،

**تفسیر :** یعنی د اختر ورځ د څاښت په مهال(وخت) .

وَقِيلَ لِلنَّاسِ هَلْ أَنتُم مُّجْتَمِعُونَ ﴿٣٩﴾ لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ السَّحَرَةَ إِن كَانُوا هُمُ الْغَالِبِينَ ﴿٤٠﴾

او وویل شو دپاره د خلقو چه آیا یئ تاسې یو ځای کیدونکی (دغې معلومې ورځې ته بلکه ګرد (تول) سره راتول شئ!) ښائې چه مونږ متابعت (قبول) کړو (لیاری د) ساحرانو که چیری شول دوی هم غالبان بریالیان (پر موسٰی).

**تفسیر :** یعنی پر تولو لازم دی چه هلته یو ځای شی. مونږ قوی هیله (ارزو) او امید لرو چه ځمونږ کودګران به بریالیان (کامیاب) شی. نو هله به د موسٰی د مغلوبیت او د ماتی د ښه ښکاره کولو دپاره د خپلو کودګرانو په لیاره ځو. ګواکی د دغی خبری اظهار مقصود ؤ چه په دغه کښې مونږ له خپله ځانه څه غرض او مقصد نه لرو. کله چه په مقابله کښې ځمونږ پله درنه وختله نو بیا انصافاً هیڅوک حق نه لری. او نشی کولی چه ځمونږ له طریقی څخه منحرف شی.

فَلَمَّا جَاءَ السَّحَرَةُ قَالُوا لِفِرْعَوْنَ أَئِنَّ لَنَا لَأَجْرًا إِن كُنَّا نَحْنُ الْغَالِبِينَ ﴿٤١﴾ قَالَ نَعَمْ وَإِنَّكُمْ إِذًا لَّمِنَ الْمُقَرَّبِينَ ﴿٤٢﴾

پس کله چه راغلل ساحران (کودګران) وویل دوی فرعون ته آیا په تحقیق وی به مونږ ته خامخا څه اجر (مزدوری) که چیری شو مونږ هم دا مونږ غلبه کوونکی بریالیان). نو وویل (فرعون کودګرانو ته) هو! (تاسې لره اجر شته او علاوه پر هغه) بیشکه چه ستاسو به دغه وقت کښې خامخا له مقربانو (مصاحبانو څما یئ!).

**تفسیر :** یعنی نه یوائی مالی انعام او اکرام به درکړم بلکه تاسې به څما د خاصو مصاحبانو په دله کښې هم داخلیږئ. د دغو آیتونو مفصل بیان د «الاعراف» او د «طٰهٰ» په سورتونو او نورو ځایونو کښې پخوا لیکلی شوی دی.
کله چه ساحران د جشن په ورځ د ګردو (تولو) خلقو په مخکښې میدان ته راغلل او د ننداړو کوونکیو صفونه وتړل شول نو.

قَالَ لَهُم مُّوسَىٰٓ أَلۡقُواْ مَآ أَنتُم مُّلۡقُونَ ﴿٤٣﴾

وویل دغو (کودګرانو) ته موسٰی وغورځوئ تاسی هر هغه څیز چه تاسی غورځوونکی یئ (د هغه).

**تفسیر :** یعنی څه وقت چه کودګرانو وویل چه ای موسٰی علیه السلام ته دی خپله همسا ړومبی غورځوئ یا ئی مونږ وغورځوو؟ حضرت موسی علیه السلام د دوی په جواب کښی وفرمایل چه: «تاسی ئی ړومبی وغورځوئ! او خپل پوره زور او قوت هم پکښی صرف کرئ!».

فَأَلۡقَوۡاْ حِبَالَهُمۡ وَعِصِيَّهُمۡ وَقَالُواْ بِعِزَّةِ فِرۡعَوۡنَ إِنَّا لَنَحۡنُ ٱلۡغَٰلِبُونَ ﴿٤٤﴾

پس وغورځول (کودګرانو) پړی خپل او همساګانی خپلی او وویل (کودګرانو) په عزت (اقبال) د فرعون بیشکه مونږ خامخا هم دا مونږ یو غالبان (بریالیان).

**تفسیر :** ځینو «بعزة فرعون» د قسم په معنی اخیستی دی یعنی د فرعون پر اقبال قسم خورو چه هم دا مونږ بریالیان (غالبان) کیږو!.

فَأَلۡقَىٰ مُوسَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ تَلۡقَفُ مَا يَأۡفِكُونَ ﴿٤٥﴾

بیا وغورځوله موسٰی همسا خپله پس ناڅاپه هغی (همسا) ونغړدل (ښوی تیر کړل) هغه (ماران) چه (ساحرانو) په دروغو جوړ کړی ؤ.

**تفسیر :** شیخ اکبر لیکلی دی چه هم هغه پړی او همساګانی چه کودګرانو هغه د مارانو په شکل راښکاره کړی وی (راښکاره کولی) تشی توری پاتی شوی د موسٰی علیه السلام همسا دغه ټول شیان یوه ګوله کړل او له خپل ستونی(حلقه) څخه ئی ښوی تیر کړل.

فَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سٰجِدِينَ ﴿٤٦﴾ قَالُوٓا اٰمَنَّا بِرَبِّ الْعٰلَمِينَ ﴿٤٧﴾ رَبِّ مُوسٰى وَهٰرُونَ ﴿٤٨﴾ قَالَ اٰمَنْتُمْ لَهٗ
قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ ۚ اِنَّهٗ لَكَبِيرُكُمُ الَّذِي عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۚ فَلَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ۚ لَاُقَطِّعَنَّ اَيْدِيَكُمْ
وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ وَّلَاُوصَلِّبَنَّكُمْ اَجْمَعِينَ ﴿٤٩﴾

پس وغورځول شول پرمخې ساحران سجده کوونکې (الله ته) (وویل ساحرانو) ایمان راوړی دی مونږ په رب د عالمیانو رب (پالونکی) د موسیٰ او (رب) د هارون وویل (فرعون ساحرانو ته) آیا ایمان راوړ تاسی په دغه (موسیٰ) پخوا له هغه چه زه اذن (اجازه) ورکړم تاسی ته (د ایمان راوړلو په ده) بیشکه دغه (موسیٰ) خامخا مشر دی ستاسی هسې (مشر) چه ښوولی ئې دی تاسی ته سحر (کوډی) پس خامخا ژر به عالمان شئ (په جزاء د عمل خپل)، خامخا زه به پرې کړم لاسونه د تاسی او پښې د تاسی سره مخالفې (ښی لاس او کینه پښه یا عکس د دی) او خامخا وبه ځړوم (ځوړند به کړم) پر دار هرومرو (خامخا) تاسی ټول (چه مړه شئ او درنه عبرت واخلی نور).

**تفسیر :** یعنی موسی علیه السلام ستاسی لوی ښوونکی دی تاسی پخپلو منځونو کښې سره روغه کړې ده او داسی مو سره تاکلې (مقرر کړی) او غوټه کړی ده چه مونږ به داسی کوو او وایو. او ته داسی وواېه! حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی: چه ستاسی مشر وویل رب ته یعنی موسٰی علیه السلام او تاسی د یوه استاد شاګردان یئ والله اعلم.

قَالُوا لَا ضَيْرَ ۖ اِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا مُنْقَلِبُونَ ﴿٥٠﴾

وویل (ساحرانو) نشته ضرر مونږ ته په دی کښې ځکه چه بیشکه مونږ رب خپل ته بیرته راتلونکی یو.

**تفسیر :** یعنی په هر حال وروسته له مرګه هرومرو (خامخا) د الله تعالیٰ حضور ته بیول کیږو په داسی موت سره مونږ د شهادت درجه مومو. دغه ګرد (ټول) مضامین د «الاعراف» په سورت او نورو ځایونو کښې لیکلی شوی دی هلته دی ولوستل شی.

اِنَّا نَطْمَعُ اَنْ يَّغْفِرَ لَنَا رَبُّنَا خَطٰيٰنَآ اَنْ كُنَّآ اَوَّلَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٥١﴾

(او بل ځکه چه) بیشکه مونږ طمع هیله (امید) لرو د دی چه وبښی مونږ ته رب ځمونږ ګناهونه ځمونږ له جهته چه یو مونږ (په دغو حاضرینو کښی) ړومبی د ایمان راوړونکیو.

**تفسیر** : یعنی د موسیٰ علیه السلام له دعوت او تبلیغ څخه وروسته د دغی لوئی مجمع په محضر او د ظالم فرعون په مخ کښی له ګردو (تولو) څخه ړومبۍ مونږ د حق د قبولیت اعلان وکړ. له دی نه داسی هیله (ارزو) او امید کیږی چه الله تعالیٰ به ځمونږ پخوانی ګرد (تول) تقصیرات معافوی..

وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِىٓ إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ﴿٥٢﴾

او وحی (حکم) ولیږه مونږ طرف د موسیٰ ته داسی چه د شپی بوځه بندګان ځما (بنی اسرآئیل بحر ته) بیشکه چه تاسی پسی به درشی (فرعون سره له فرعونیانو).

**تفسیر** : یعنی څه وقت چه فرعون له یوی اوږدی مودی پوری سره د ویلو او پوهولو او د قدرت د نښو د لیدلو هم ایمان رانه وړ، او حق ئی ونه مانه، او د بنی اسرآئیلو د ایذاء او ضرر او ربړولو (تکلیفولو) څخه ئی لاس وانخیست نو مونږ موسیٰ علیه السلام ته حکم وکړ چه د شپی له مخی ته سره له قوم خپل له دی ځایه د هجرت په نیت ووځۍ!، او خبردار اوسۍ! چه فرعونیان به هم په تاسی پسی درځی او ستاسی تعقیب به په شدت سره کوی ښائی چه تاسی تری ونه ویریږئ!.

فَأَرْسَلَ فِرْعَوْنُ فِى ٱلْمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ﴿٥٣﴾ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَشِرْذِمَةٌ قَلِيلُونَ ﴿٥٤﴾

پس ولیږل (فرعون) په ښارونو کښی (یعنی ښارونو ته محصلان) راتولوونکی (د لښکر). ترڅو چه ګرد (تول) قبطیان تول کړی او د سبطیانو (بنی اسرآئیلو) تعاقب وکړی. (او وویل فرعون) چه بیشکه دغه (بنی اسرآئیل) خامخا یوه ډله ده ډیر لږه.

**تفسیر** : یعنی د دغه وړوکی جمعیت له لاسه مونږ پکو (تنګ) شوی یو حال دا چه د دوی

هستی هیڅ شی ده او د دوی موجودیت مونږ ته هیڅ وقعت او اهمیت نه لری. او نه دوی څمونږ د جنګ او د مقابلې قوت او توان لری. دغه خبری ئی د دی دپاره کولې چه د ده قوم په جوش او غیرت راشی.

وَإِنَّهُمْ لَنَا لَغَائِظُونَ ﴿٥٥﴾

او بیشکه چه دغه (سبطیان) له مونږ زړه سوی (لړمون خوړین) دی.

**تفسیر** : یا مونږ په قهر او غصه راولی یعنی کوی داسی کارونه چه مونږ پر دوی په قهر شو معلوم دی چه بدبختی او شقاوت دوی په دغه اړولی دی چه څمونږ قهر او غضب ځان ته وګټی.

وَإِنَّا لَجَمِيعٌ حَاذِرُونَ ﴿٥٦﴾

او بیشکه مونږ خامخا تول (قبطیان مجرب محتاط یو او له دغو سبطیانو نه) په خطره ویره کښی یو.

**تفسیر** : نو د دغی هری ورځنی خطری بیخ او بنسټ (بنیاد) ایستل او دائمی قلع او قمع ئی په کار ده او راځئ چه یو ځلی ئی له منځه ورک کړو. ځینو مفسرینو د دی ترجمه داسی کړی ده چه «څمونږ لاؤ لښکر او جمعیت خورا ډیر دی چه ګرد (تول) سره مسلح، مجرب او محتاط دی» نو دغه الفاظ به د تشویق تحضیض او زړه‌ورتوب دپاره وی والله اعلم.
نو وفرمایل الله تعالیٰ جل واعلیٰ شانه واعظم برهانه.

فَأَخْرَجْنَاهُمْ مِنْ جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿٥٧﴾ وَكُنُوزٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴿٥٨﴾ كَذَٰلِكَ وَأَوْرَثْنَاهَا بَنِي إِسْرَائِيلَ ﴿٥٩﴾

پس ویستل مونږ دغه (قبطیان) له باغونو او (له) چینو او (له) خزانو او (له) مقام عمده (ښو ځایونو) نه هم داسی (وکړه مونږ له قبطیانو سره) او په میراث مو ورکړل دغه (تیر شیان) بنی‌اسرآئیلو (اولادی د یعقوب) ته.

**تفسیر** : «کذلک» یعنی په دی دول (طریقه) قبطیانو کور کهول، مال دولت باغونه او کښتونه

(فصلونه) پریښودل او ګرد (تول) سره یو ځای د بنی‌اسرآئیلو په تعاقب ووتل چه بیا بیرته ګرځیدل د هغوی په برخه نشو. ګواکي په دغه تدبیر سره الله تعالیٰ دوی د باندی وشړل.
یا خو دغه باغونه او چینی او خزانی او ښه ځایونه او نور شیان وروسته له هغه د بنی‌اسرآئیلو) په لاس ورغلی دی. یا خو یوه موده وروسته له دی نه د حضرت سلیمان علیه السلام په عهد کښی څه وقت چه د مصر مملکت هم د ده په سلطنت کښی شامل شو. والله اعلم. پخوا له دی نه د دی په متعلق اختلافات تیر شوی دی.

فَأَتْبَعُوهُم مُّشْرِقِينَ ﴿٦٠﴾ فَلَمَّا تَرَاءَى الْجَمْعَانِ قَالَ أَصْحَابُ مُوسَىٰ إِنَّا لَمُدْرَكُونَ ﴿٦١﴾

پس وروسته د دغو (سبطیانو) لاړل دغه (قبطیان او ورسیدل) هغوی ته په وقت د ختلو د لمر پس کله چه سره ولیدل دغو دواړو لښکرو (یو له بله سره) نو وویل ملګریو د موسیٰ چه بیشکه مونږ خامخا موندلی شوی یو (نیولی شوی یو) له جانبه د (قبطیانو).

**تفسیر :** یعنی د قلزم د بحیری (احمری بحیری) څنډی (غاړی) ته ورسیدل بنی اسرآئیل په دغه فکر کښی ؤ چه په څه ډول (طریقه) له دغه سینده پوری وځی چه د شا له طرفه د فرعونیانو لوی لښکر د فرعون په مشرتوب ورپسی ورسید. اسرآئیلیان له دغه وضعیت څخه چه له یوه طرفه ډانګ او له بل طرفه پړانګ ؤ ډیر سخت وویریدل. او موسیٰ علیه السلام ته ئی وویل چه اوس به مونږ د فرعونیانو له لاسه څرنګه نجات وموندلی شو چه وړاندی سمندر او وروسته دغه لوی لښکر دی چه په ډیر قوت او قدرت او زور ؤ شور سره راځی؟.

قَالَ كَلَّا ۖ إِنَّ مَعِيَ رَبِّي سَيَهْدِينِ ﴿٦٢﴾

وویل (موسیٰ سبطیانو ته) چه نه ده داسی بیشکه له ما سره رب ځما دی په نصرت او اعانت ژر به وښیی ماته (لیاره د نجات)

**تفسیر :** یعنی له سره مه ویریږئ! د الله تعالیٰ پر مواعیدو ډاډه او مطمئن اوسئ! ځکه چه د الله تعالیٰ نصرت او حمایت له مونږ سره دی! الله جل جلاله به هرومرو (خامخا) د نصرت او حمایت کومه لیاره مونږ ته راوباسی امکان نه لری چه مونږ به دښمنان ونیولی شی.

فَأَوْحَيْنَا إِلَى مُوسَى أَنِ اضْرِب بِّعَصَاكَ الْبَحْرَ ۖ فَانفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَالطَّوْدِ الْعَظِيمِ ﴿٦٣﴾

پس وحی (حکم) وکړ مونږ موسٰی ته داسی چه ووهه ته په همسا خپلی بحر (د قلزم یا د نیل پس ده وواهه)، پس وچاود (بحر دولس توتی شو) پس شوه هره برخه (یوه توته جلا (جدا) شوی هسکه (اوچته)) لکه اوږد لوړ (اوچت) غر (په هسکوالی (اوچتوالی)).

**تفسیر :** اوبو ډیر زیات زور والی درلود (لرلو) له دولسو ځایونو څخه وچاودیدلی څیری شولی او پکښی وچی کلکی لیاری جوړی شوی او د بنی اسرآئیلو د دولسو قبیلو دپاره بیلی بیلی لیاری پکښی سازی شوی. او په منځ کښی د اوبو لوی لوی دیوالونه د لویو لویو غرونو په شان ودریدل (کذا فی موضح القرآن).

وَأَزْلَفْنَا ثَمَّ الْآخَرِينَ ﴿٦٤﴾ وَأَنجَيْنَا مُوسَى وَمَن مَّعَهُ أَجْمَعِينَ ﴿٦٥﴾ ثُمَّ أَغْرَقْنَا الْآخَرِينَ ﴿٦٦﴾

او بیا رانژدی کړل مونږ دغه ځای ته هغه نور (یعنی قبطیان) او نجات ورکړ مونږ موسٰی او هغو (سبطیانو) ته چه له ده سره ؤ (له غرقه) تول بیا غرق کړل مونږ هغه نور (یعنی قبطیان)

**تفسیر :** یعنی فرعونی لښکر هم نژدی ورسید او په بحر کښی ئی جوړی شوی لیاری ولیدلی نو دوی بی له کوم فکر او اندیښنی په بنی اسرائیلو پسی د اوبو په هغو لویو لویو کوڅو کښی سره ورننوتل کله چه فرعون او ګرد (تول) فرعونی لاؤ لښکر د بحر منځ ته ورسیدل نو علی‌الفور د الله تعالٰی په حکم له دواړو خواؤ د اوبو غرونه پری ونښتل او تولی اوبه سره یو ځای شوی او دوی پکښی مغروق شول. دغه قصه پخوا له دی نه هم لیکلی شوی ده.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٦٧﴾

بیشکه په دغه (غرق د قبطیانو کښی) خامخا لوی دلیل دی (د عبرت او د قدرت ځمونږ) او نه ؤ اکثر زیاتره د دوی مؤمنان.

**تفسير :** یعنی کله چه د هغوی څخه ډیرو کسانو حق ونه مانه نو په آخر کښی قدرت دغه نښه ورښکاره کړه چه په هغی کښی د صادقینو او مکذبینو انجام په هم دغه دنیا کښی بیل بیل ښکاره او جلا (جدا) شی.

---

وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿٦٨﴾

---

او بیشکه رب ستا خامخا هم هغه دی ښه غالب قوی (په انفاذ د احکامو) ښه رحم والا. (په انعام د اجر او ثواب سره)

---

**تفسير :** دغی ئی څمونږ رسول الله ته اورولی دی چه د مکی معظمی فرعون ابوجهل او فرعونیان کفار د قریش به هم په مسلمانانو پسی جنګ ته راوځی بیا به له وطن څخه د باندی تباه کیږی د «بدر» په ورځ لکه چه فرعون په رود نیل یا بحیره قلزم کښی تباه شول (موضح القرآن).

---

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ إِبْرَاهِيمَ ﴿٦٩﴾ إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ مَا تَعْبُدُونَ ﴿٧٠﴾ قَالُوا نَعْبُدُ أَصْنَامًا فَنَظَلُّ لَهَا عَاكِفِينَ ﴿٧١﴾

---

او ولوله (ای محمده!) پر دغو (کفارو د مکی) خبر (قصه) د ابراهیم! کله چه ئی وویل پلار خپل (آزر) ته او قوم خپل ته چه د څه شیز عبادت کوئ تاسی (یعنی دغه څه شی دی چه تاسی ئی عبادت کوئ.؟) نو وویل دوی عبادت کوو د بتانو پس همیشه اوسو دوی ته ورنژدی کیناستونکی (عابدان).

---

**تفسير :** یعنی دغه څه شی دی چه تاسی ئی عبادت کوئ؟ دغه د ابراهیم علیه السلام سوال ؤ نمرودیانو په جواب کښی ورته داسی وویل چه ته څمونږ معبودان نه پیژنی؟ چه په داسی تحقیر سره ئی پوښتنه کوی. مونږ تل د دغو بتانو عبادت کوو او څمونږ په زړونو کښی د دوی دومره عقیدت او وقعت شته چه د شپی او د ورځی دوی ته د مجاورانو په شان معتکف ناست یو.

---

قَالَ هَلْ يَسْمَعُونَكُمْ إِذْ تَدْعُونَ ﴿٧٢﴾

---

وویل (ابراهیم) آیا اوری (دغه بتان بلنه) د تاسی کله چه ئی بولئ تاسی.

**تفسير :** يعني سره له دومره نارو او سورو وهلو آيا دوی ستاسی خبری اوریدلی شی؟ که ئی نه آوری لکه چه د دوی له جمادیت ځخه ښکاره ده نو دغه بلل او ناری وهل چتی (فضول) او بیکاره دی.

أَوْ يَنفَعُونَكُمْ أَوْ يَضُرُّونَ ﴿٧٣﴾

یا څه نفع رسوی تاسی ته (چه ئی عبادت وکړئ) یا ضرر در رسوی (که ئی عبادت ونه کړئ).

**تفسير :** آیا د دوی د عبادت کولو څخه څه گټه (فائده) او د نه عبادت کولو څخه څه نقصان دررسولی شی؟ ظاهره او ښکاره خبره ده هغه شی چه له خپله ځانه یو مچ هم نشی شړلی هغه به نورو ته څه نفع یا نقصان ورسولی شی نو بیا داسی یو عاجز او لایعقل شی معبود گرځول د کوم عاقل او پوه کار کیدی شی؟.

قَالُوا بَلْ وَجَدْنَا آبَاءَنَا كَذَٰلِكَ يَفْعَلُونَ ﴿٧٤﴾

وویل (کفارو چه نه آوری او نه نفع او نه ضرر رارسوی دغه بتان) بلکه موندلی دی مونږ پلرونه خپل چه هم داسی به ئی کول (عبادت د بتانو).

**تفسير :** یعنی له داسی منطقی مباحثو او حجتونو او دلائلو سره مونږ څه کار او غرض نه لرو. ځمونږ د عقیدت او عبادت مدار پر هم دغو خبرو دی چه درته ومو ویل. پس له سلهاؤ دلائلو څخه یو لوی دلیل هم دغه خبره ده چه ځمونږ پلرونه او نیکه گان به هم پر هم دغی لیاری روان ؤ آیا مونږ هغو گردو (ټولو) ته احمق او ناپوه ووایو؟ او د هغوی تقلید پریږدو؟.

قَالَ أَفَرَأَيْتُم مَّا كُنتُمْ تَعْبُدُونَ ﴿٧٥﴾ أَنتُمْ وَآبَاؤُكُمُ الْأَقْدَمُونَ ﴿٧٦﴾ فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ
لِّي إِلَّا رَبَّ الْعَالَمِينَ ﴿٧٧﴾ الَّذِي خَلَقَنِي فَهُوَ يَهْدِينِ ﴿٧٨﴾ وَالَّذِي هُوَ يُطْعِمُنِي
وَيَسْقِينِ ﴿٧٩﴾ وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ ﴿٨٠﴾ وَالَّذِي يُمِيتُنِي ثُمَّ يُحْيِينِ ﴿٨١﴾
وَالَّذِي أَطْمَعُ أَن يَغْفِرَ لِي خَطِيئَتِي يَوْمَ الدِّينِ ﴿٨٢﴾

وویل (ابراهیم) آیا پس وینئ (پوهیږئ تاسی په دی چه) هر هغه (بتان) چه یئ تاسی چه عبادت کوئ تاسی (د هغوی) او پلرونه ستاسی چه پخوا تیر شوی دی پس بیشکه چه دغه (بتان دښمنان ځما دی مګر رب د عالمیانو (چه دوست ئی لرم او عبادت ئی کوم) هغه (رب) چه پیدا کړی ئی یم زه (له عدمه) پس هم دی سمه صافه لیاره ښیی ماته او هغه (رب) چه هم دی طعام خوروی پر ما او اوبه (او نور) راباندی څښوی او کله چه مریض رنځور شم پس هم دی شفاء راکوی او هغه (رب) چه مر کوی می (په دنیا کښی) بیا به می ژوندی کوی (په عقبا کښی) او هغه (رب) چه طمع هیله (امید) لرم (تری) د دی چه مغفرت کړی ماته خطاء ځما په ورځی د جزاء کښی.

---

**تفسیر :** یعنی د دوی عبادت کول یو پخوانی حماقت دی که نه د چا په واک اختیار او قبضه کښی چه د یوی ذری په اندازه نه نفع وی او نه نقصان د هغه عبادت څه په کار دی؟ درواخلئ زه بی له خوفه او خطره اعلان کوم چه زه ستاسی له دغو معبودانو سره جنګ کوم. زه پر دوی یو کید، مکر او تمسخر کوم: ﴿وَتَاللَّهِ لَأَكِيدَنَّ أَصْنَامَكُم بَعْدَ أَن تُوَلُّوا مُدْبِرِينَ﴾ جزء ١٧ (د الانبیاء (٥) رکوع) ٥٧ آیت که په دوی کښی څه طاقت وی نو ماته دی څه ضرر او نقصان ورسوی کما قال فی جزء ٧ سورة الانعام (٩) رکوع ٨٠ آیت ﴿وَلَا أَخَافُ مَا تُشْرِكُونَ بِهِ إِلَّا أَن يَشَاءَ رَبِّي شَيْئًا﴾ وجاء فی جزء ١١ سورة یونس (٨ رکوع) ٧١ آیت من قول نوح علیه السلام : ﴿فَأَجْمِعُوا أَمْرَكُمْ وَشُرَكَاءَكُمْ﴾ وجاء فی جزء ١٢ سورة هود (٥ رکوع) ٥٥ آیت من قول هود علیه السلام: ﴿فَكِيدُونِي جَمِيعًا ثُمَّ لَا تُنظِرُونِ﴾ او ځینی مفسرین وائی چه په دغه کښی په یوی نهایتی مؤثری او لطیفی پیرائی سره پر مشرکینو تعریض دی یعنی هغه بتان چه تاسی ئی عبادت کوئ زه هغوی خپل دښمنان ګڼم که نعوذ بالله زه د هغو عبادت وکړم نو په هغه کښی بیخی ځما نقصان دی له دغه ځنی وپوهیږئ چه تاسی هم د دوی له عبادت کولو ځنی خپل ځان ته زیان پیښوئ تاسی ښه غوږ راته کیږدئ چه له دغو بتانو سره زه په شدت دښمنی کوم او یواځی واحد او صمد الله العالمین رب العالمین سره مینه او محبت لرم او د هم هغه عبادت کوم چه هغه رب العالمین ځما معبود دوست او مددګار دی او د دارینو د فلاح لیاره راښیئ او د ډیری اعلیٰ درجی فوائدو او منافعو په طرف مونږ ته لیار ښوونه کوی یعنی خوړل، څښل، ژوندی کول، وژل او رنځورول او له رنځوری څخه روغول دغه ګرد (تول) د الله تعالیٰ په قبضه، اختیار او واک کښی دی او هم هغه رب می مر کوی په دنیا کښی او بیا می راژوندی کوی په عقبا کښی او زه تری دغسی هیله (ارزو) او امید لرم چه وبښی ماته خطاء ځما په ورځی د جزاء کښی یعنی که په کومه معامله کښی سهو نسیان او تیرواته واقع شی. یا له کوم بنده څخه د خپلی درجی سره موافق خطاء او تقصیر صادر شی نو د الله تعالیٰ له مهربانی څخه

د هغه د معافی توقع کیدی شی ځکه چه پرته (علاوه) له الله تعالیٰ څخه بل څوک معاف کوونکی نه دی. وروسته له دی نه د الله تعالیٰ د کمالاتو او مهربانیو د ذکر کولو په منځ کښی حضرت ابراهیم علیه السلام د زړه له حضوره په دعاء شروع وکړه چه د عبودیت د کمال له لوازمو څخه ده.

رَبِّ هَبْ لِي حُكْمًا وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ ﴿٨٣﴾ وَاجْعَل لِّي لِسَانَ صِدْقٍ فِي الْآخِرِينَ ﴿٨٤﴾ وَاجْعَلْنِي مِن وَرَثَةِ جَنَّةِ النَّعِيمِ ﴿٨٥﴾ وَاغْفِرْ لِأَبِي إِنَّهُ كَانَ مِنَ الضَّالِّينَ ﴿٨٦﴾

ای ربه ځما وبښه ماته حکم (علم عمل حکمت نبوت) او پیوست می کړه له (لویو) صالحانو سره او وګرځوه ماته ژبه د صدق (او د ثناء او د نیکنامی آوازه) په وروستنیو (خلقو کښی هم) او ومی ګرځوه وارثانو د جنت د نعمتونو (یعنی چه ډک دی له خالصو لویو لویو نعمتونو نه). او ښښنه وکړه پلار ځما ته بیشکه چه دی ؤ له ګمراهانو.

**تفسیر :** یعنی مزید علم او حکمت او د قرب درجات او قبول رامرحمت وفرمایه! او د اعلیٰ درجی نیکانو په ډله کښی می چه انبیاء علیهم السلام دی شامل کړه. کما قال نبینا صلی الله علیه وسلم: «اللّهم فی الرفیق الاعلیٰ» له دغه دعاء څخه خپل کامل احتیاج او د الله تعالیٰ د انتهائی غناء اظهار مقصود دی. یعنی که نبی دی یا ولی الله تعالیٰ د هیچا په معامله کښی مجبور او مضطر نه دی او تل د هغه د فضل او رحمت او کرم څخه کار چلیږی.
(او وګرځوه ماته ژبه د صدق او د ثناء او د نیکنامی آوازه په وروستنیو خلقو کښی هم) یعنی د داسی مرضیهؤ اعمالو او حسنه ؤ آثارو توفیق راپه برخه کړی چه راتلونکی نسلونه تل ما په خیر سره یاد کړی! او تل ځما د سنت متابعت وکړی! او ماته راغب وی او داسی هم کیدی شی چه په آخره زمانه کښی دی ځما له کورنی څخه داسی نبی وی چه ځما دین تازه وګرځوی او وئی ساتی لکه چه هم داسی هم وشوه چه الله تعالیٰ په دنیا کښی حضرت ابراهیم علیه السلام ته عمومی قبول وروباښه. او د ده له اولادی څخه ئی ځمونږ خاتم المرسلین سید الاولین والاخرین صلی الله علیه وسلم مبعوث کړ. چه دوی د ابراهیمی ملت تجدید وفرمایه. او وی فرمایل چه زه د ابراهیم دعاء یم، نن هم د ابراهیم علیه السلام د خبر ذکر د اهل الملل پر ژبو جاری دی. او مونږ محمدی امت هم په هر لمانځه کښی «**اللّهم صل وسلم و بارک علیٰ محمد وعلیٰ آل محمد کما صلیت وسلمت وبارکت علیٰ ابراهیم وعلیٰ آل ابراهیم**» لولو.

(او ومی گرځوه له وارثانو د جنت د نعمتونو یعنی چه ډک دی له خالصو لویو لویو نعمتونو ښخه) مقصد ئی دا چه هغه جنت را په برخه کره چه د آدم علیه السلام میراث دی.
(واغفر لابی: او ببښنه وکره پلار ځما ته بیشکه چه دی ؤ له گمراهانو) له ترجمی ښخه ښرگندیږی (ښکاره کیږی) چه د ده عدوالله توب ظاهر شو نو خپل د برائت او بیزاری اظهار ئی وفرمایه کما قال الله تعالیٰ: ﴿ وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ إِبْرٰهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَن مَّوْعِدَةٍ وَعَدَهَا إِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ أَنَّهُ عَدُوٌّ لِّلّٰهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ ﴾ جزء ١١ ( د التوبه ١٤ رکوع) ١١٤ آیت او که په ﴿ إِنَّهُ كَانَ مِنَ الضَّالِّينَ ﴾ کښې د «کان» ترجمه د «ؤ» پر ځای په «دی» سره وکره شی نو بیا هیڅ اشکال نه پاتی کیږی ځکه چه په ژوندون کښې د ده د ایمان راوړلو امکان باقی ؤ. نو د دعاء حاصل دا دی چه «الٰهی ځما پلار په ایمان سره مشرف وفرمایه! او د کفر د زمانی خطاوی ئی ورمعافی کره!» د دی لږ څه مفصل تحقیق پخوا له دی نه کوم ځای کښې تیر شوی دی هلته دی وکوت شی فلیراجع

وَلَا تُخْزِنِي يَوْمَ يُبْعَثُونَ ﴿٨٧﴾ يَوْمَ لَا يَنفَعُ مَالٌ وَلَا بَنُونَ ﴿٨٨﴾ إِلَّا مَنْ أَتَى اللّٰهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ ﴿٨٩﴾

او مه می شرموه په هغه ورځ کښې چه ژوندی راپاخول شی (گرد (تول) مخلوقات له قبورو) په هغه ورځ چه نه رسوی نفع مال او نه (نفع رسوی) ځامن هیڅ ته). مگر هغه چاته چه راغلی دی الله ته په زړه سلامت پاک (له کفره او نفاقه) یعنی روغ رمت بی له رنځه او درده زړه چه له کفر او نفاقه او فاسدو عقائدو ښخه پاک وی هغه هم هغسی کار کوی ( چه د هغه په اثر په قیامت کښې معزز اوسیږی)

تفسیر : هلته به مال او دولت او عیال او اولاد له سره په کار نه راځی که کافر وغواړی چه په قیامت کښې خپل مال او اولاد فدیه او له خپله ځانه ئی جار (قربان) کری. او په دغه وسیله سره خپل ځان خلاص کری. نو دغه به له سره ممکن نه وی. د دغی دنیا د صدقاتو او خیراتونو او نیکو اولادو ښخه هم هلته د نفع توقع شته چه د ده زړه د کفر له نجاسته او پلیتیء ښخه پاک او صاف وی.

وَأُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴿٩٠﴾ وَبُرِّزَتِ الْجَحِيمُ لِلْغَاوِينَ ﴿٩١﴾

او (په هغه ورځ کښې به) ورنژدی کړ شی جنت پرهیزگارانو ته (لیار د

مسرت او خوشالي د دوی) او ښکاره به کړ شي جحيم ګمراهانو ته (لپاره د حسرت او خفقان د دوی).

**تفسیر :** په محشر کښې به جنت پخپل انتهائی دول (طريقه) او سينګار او آرائش او زيبائش سره متقيانو ته نژدی به نظر ورځی چه جنتيان به د هغه له ليدلو څخه پخوا د هغه د ننوتلو څخه ډير مسرور او محظوظ کيږی هم داسې دوزخ به هم مجرمانو ته ډير نژدی راوړل کيږی څو دوی پخوا د هغه له دخوله وويريږی او ولړزيږی.

وَقِيلَ لَهُمْ أَيْنَمَا كُنتُمْ تَعْبُدُونَ ﴿٩٢﴾ مِن دُونِ اللَّهِ هَلْ يَنصُرُونَكُمْ أَوْ يَنتَصِرُونَ ﴿٩٣﴾

او وبه ويل شي دوی ته (د پرښتو په ژبه) چه چيرته دی هغه معبودان ستاسی بې له الله چه وئ عبادت به کاوه تاسی د هغو بې له الله نه، آيا مدد کوی له تاسی سره (په دفع د عذاب د الله کښې) يا څه مدد کوی دوی له خپله ځانه سره (بلکه نه ئې شي کولی).

**تفسیر :** يعنې اوس مو هغه فرضی معبودان چيری دی؟ چه نه ستاسی مدد کوی او نه مو له دغه عذابه خلاصولی شي؟ او نه ستاسی بدل او انتقام اخيستی شي؟ بلکه دوی خپلو ځانونو ته هم څه مدد او منفعت نشي رسولی،

فَكُبْكِبُوا فِيهَا هُمْ وَالْغَاوُونَ ﴿٩٤﴾ وَجُنُودُ إِبْلِيسَ أَجْمَعُونَ ﴿٩٥﴾ قَالُوا وَهُمْ فِيهَا
يَخْتَصِمُونَ ﴿٩٦﴾ تَاللَّهِ إِن كُنَّا لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٩٧﴾ إِذْ نُسَوِّيكُم بِرَبِّ
الْعَالَمِينَ ﴿٩٨﴾ وَمَا أَضَلَّنَا إِلَّا الْمُجْرِمُونَ ﴿٩٩﴾ فَمَا لَنَا مِن شَافِعِينَ ﴿١٠٠﴾
وَلَا صَدِيقٍ حَمِيمٍ ﴿١٠١﴾

پس وبه غورځول شي (دا بتان) نسکور په دغه (دوزخ) کښې دوی (او هم) ګمراهان او لښکر د ابليس (شيطان) ټول (عابدان او معبودان). وبه وايي دوی

حال دا چه دوی به په دوزخ کښې سره جګړې کوی چه قسم دی په الله چه بیشکه شان دا دی چه وو مونږ خامخا په ګمراهی ښکاره کښې کله چه برابرولیځ مونږ تاسی (په عبادت کښې) له رب (پالونکی) د عالمیانو سره. او نه وو ګمراه کړی مونږ مګر هم دغو مجرمانو (بدو مشرانو څمونږ) پس نشته مونږ ته له سره له شفاعتګرو (هیڅوک) او نه کوم دوست مخلص (چه څمونږ په دغه غم غمجن شی).

**تفسیر :** یعنی بتان او بت پرستان او ابلیس سره د هغو د لښکرو ګردو (تولو) پرمخی به دوزخ کښې غورځول کیږی، وروسته د دی ځای د رسیدلو څخه دوی پخپلو منځونو کښې سره جګړې کوی او یو پر بل باندی به الزام او ملامتی اړوی او بالاخر ګرد (تول) به پر خپلو ګمراهیو اقرار او اعتراف کوی او وبه وائی چه «بیشکه له مونږ څخه ډیره لویه ګناه او غلطی شوی ده چه تاسی بتانو یا نورو شیانو ته مو د خدائی حقوق او اختیارات درکړی وو. او له رب العالمین سره مو برابر کړی وئ! نو په دغه غته ګناه او لویه غلطی کښې د دغو لویو شیطانانو په ښوونه او ښویونه لویدلی یو او دغه بد کارونه دوی پر مونږ باندی کړی دی چه د هغو لامله ( له وجی) مونږ په دغه غم او مصیبت کښې اخته شوی یو او نن ورځ مو نه بتان پکار راځی او نه شیطان په مدد رارسیږی ځکه چه هغوی پخپله د دوزخ په لمبو کښې غوتی وهی. اوس مونږ دومره یو یار یا مددګار هم نه لرو چه د الله تعالیٰ په دربار کښې څمونږ شفاعت وکړی یا د دغه غم او مصیبت او اړی (محتاجی) په وقت کښې له مونږ سره لږ زړه سوی او خوا خوږی او د همدردیځ اظهار وکړی».

رښتیاء ده چه ﴿ ٱلۡأَخِلَّآءُ يَوۡمَئِذِۭ بَعۡضُهُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوٌّ إِلَّا ٱلۡمُتَّقِينَ ﴾ (د زخرف (٦) رکوع ٦٧ آیت (٢٥) جزء).

فَلَوۡ أَنَّ لَنَا كَرَّةٗ فَنَكُونَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٠٢

پس (کاشکی) که وی مونږ ته یو کرت (بیرته ورتګ دنیا ته) پس شوی به وو مونږ له مؤمنانو.

**تفسیر :** یعنی که یو ځلی مونږ ته داسی یوه موقع راکړه شی چه بیرته دنیا ته ورشو نو دا ځلی به مونږ له ډیرو کلکو او مضبوطو ایماندارانو څخه کیږو. لیکن د دوی دغه وینا به هم دروغ وی: ﴿ وَلَوۡ رُدُّواْ لَعَادُواْ لِمَا نُهُواْ عَنۡهُ وَإِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ﴾ جزء ٧ (د الانعام (٣) رکوع) ٢٨ آیت.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ ١٠٣

بیشکه چه په دغه (قصه د ابراهیم کښې) خامخا لوی حجت (نښه د قدرت او عبرت) دی (عقلاؤ ته) او نه وو اکثر زیاتره د دوی مؤمنان.

**تفسیر** : یعنی په دغه قصه د ابراهیم علیه السلام کښې د توحید او د نورو حسنه ؤ خصائلو دلائل او د مشرکانو عبرتناکه انجام او خاتمه ښوولی شوی ده مګر له الله نه منکر خلق ئی کله منی.

وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿١٠٤﴾ كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوحٍ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٠٥﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ نُوحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٠٦﴾ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٠٧﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٠٨﴾

او بیشکه رب ستا هم هغه غالب قوی دی «په انفاذ د احکامو» ډیر رحم والا «په انعام د اجر ؤ ثواب سره» نسبت د دروغو وکړ قوم د نوح رسولانو ته کله چه وویل دوی ته ورور د دوی نوح چه آیا نه ویریږئ تاسی (له عذابه د الله نه په شرک خپل) بیشکه چه زه تاسی ته رسول یم امانتګر پس وویریږئ تاسی له الله نه او اطاعت وکړئ ځما (په شرعیه ؤ امورو کښې).

**تفسیر** : یعنی په نهایت صدق او امانت د الله تعالیٰ پیغام بی له تزئیده او تنقیصه دررسوم لهٰذا پر تاسی واجب دی چه دغه د الله تعالیٰ پیغام په ښه شان سره واورئ! او د الله تعالیٰ له عذاب څخه وویریږئ!.

وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٠٩﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١١٠﴾ قَالُوا أَنُؤْمِنُ لَكَ وَاتَّبَعَكَ الْأَرْذَلُونَ ﴿١١١﴾

او نه غواړم زه له تاسی نه په دغه تبلیغ باندی هیڅ اجر (عوض. بدل)، نه دی اجر ځما مګر پر رب (پالونکی) د عالمیانو دی. پس وویریږئ تاسی له الله (په ځان ساتلو له معاصیو) نه او اطاعت وکړئ تاسی ځما (په شرعیه ؤ

امورو کښې) يعنې د بې غرضه او بې لوټه سرې خبره لازمه ده چه ومنله شي!. نو وويل (کفارو) آيا ايمان راوړو په تا (اى نوحه) حال دا چه متابعت کړې دې د تا رذيلانو خوارانو (په ايمان راوړو په تا)

**تفسير :** يعنې لږ څه ښکته خواران او غريبان خلق د خپلو ځانونو د ښوونې دپاره له تا سره يو ځاى شوې دې کله چه ستا اتباع داسې خلق نه دې چه په لوړو (اوچتو) کارونو کښې لاس ووهي نو له سره له دوى څخه کوم لوى کار هم نه ځرګنديږي (ښکاره کيږي). او ځمونږ فضل او شرف له سره مونږ ته اجازه نشي راکولې چه له دغو ښکتو خلقو سره کينو. يا له دوى سره څنګ په څنګ چيرې لاړ شو. ړومبې خو تاسې دوى له خپله مجلسه څخه لرې کړئ! بيا نو له مونږه سره خبره وکړئ!.

قَالَ وَمَا عِلْمِي بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١١٢﴾ إِنْ حِسَابُهُمْ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّي لَوْ تَشْعُرُونَ ﴿١١٣﴾ وَمَا أَنَا بِطَارِدِ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١١٤﴾

وويل (نوح) او نشته علم ځما په هغه چه دې دوى چه ئې کوى. نه دى حساب د دوى مګر پر رب (پالونکى) ځما دى که تاسو پوهيږئ (په غيبو). او نه يم زه شړونکى د مؤمنانو (له خپل مجلسه).

**تفسير :** يعنې د دوى صدق او ايمان ځما قبول دى، د دوى د چارو يا د دندو يا نياتو او کورنيو او شخصي مشروعهؤ کارونو سره ځما څه کار او غرض دى د دغو کارونو فيصله حساب او کتاب به پخپله الله تعالىٰ کوى باقي زه ستاسې له خاطره غريب او ناداره ايمانداران له خپله ځانه نشم لرې کولې.

إِنْ أَنَا إِلَّا نَذِيرٌ مُبِينٌ ﴿١١٥﴾

نه يم زه مګر ويروونکى ښکاره (يم کفارو ته له جحيم نه).

**تفسير :** يعنې ځما فريضه دا ده چه تاسې خبردار کړم. او دغه وظيفه مى اداء کړى ده ستاسى د دغو چتى (بيکاره) او لغو غوښتنو پوره کول ځما په ذمه او غاړه نه دى.

قَالُوا لَئِنْ لَمْ تَنْتَهِ يَا نُوحُ لَتَكُونَنَّ مِنَ الْمَرْجُومِينَ ﴿١١٦﴾

وویل (کفارو) چه خامخا که وانه وښتی (له دغو ویناؤ څخه) ای نوحه خامخا شی به ته هرومرو (خامخا) له ویشتل شویو (په تیږو (ګټو) یا په کنځلو).

**تفسیر :** یعنی بس کړه او وروسته له دی نه پخپلو دغو پندونو او نصائحو څمونږ غوږونه مه کنوه ! که ته خپل له دغه وضعیت څخه لاس نه اخلی نو خبردار اوسه چه څمونږ له لوری به په ګټو سره ویشتل کیږی.

قَالَ رَبِّ إِنَّ قَوْمِي كَذَّبُونِ ﴿١١٧﴾ فَافْتَحْ بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ فَتْحًا وَنَجِّنِي وَمَن مَّعِيَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١١٨﴾ فَأَنجَيْنَاهُ وَمَن مَّعَهُ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُونِ ﴿١١٩﴾ ثُمَّ أَغْرَقْنَا بَعْدُ الْبَاقِينَ ﴿١٢٠﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٢١﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿١٢٢﴾

وویل «نوح» ای ربه څما بیشکه چه قوم څما دروغجن وبللم زه پس حکم فیصله وفرمایه په منځ څما او د دوی کښی په یو ډول (طریقه) حکم (او فیصله سره) او نجات راکړه ماته او هغه چاته چه له ماسره دی له مؤمنانو (د منکرانو له شامته) پس نجات ورکړو مونږ دغه (نوح) او هر هغه ته چه له دغه (نوح) سره ؤ په (هغی) بیړی کښی چه ډکه وه (له ذوی الارواحو څخه) بیا غرق کړ مونږ وروسته له (نجاته د بیړی د نوح) نور (قوم د نوح) بیشکه په دغه (صبر او غرق کښی) خامخا لویه نښه ده (د قدرت او عبرت) او نه ؤ زیاتره د دوی مؤمنان. او بیشکه رب ستا خامخا هم دی ښه غالب قوی دی (په انفاذ د احکامو) ډیر رحم والا دی (په انعام د اجر او ثواب سره).

**تفسیر :** د دغی قصی تفصیل پخوا له دی نه په څو ځایونو کښی تیر شوی دی لنده ئی دا چه نوح علیه السلام وویل ای ربه څما بیشکه چه قوم څما دروغجن وبللم زه پس حکم او فیصله وکړه په منځ څما او د دوی کښی په یوه ډول (طریقه) حکم او فیصله سره یعنی څما او د دوی په منځ کښی عملی فیصله وفرمایه. اوس زه هیڅ هیله (امید) او توقع نه لرم چه ګوندی دوی به سمه لیاره راشی او څما خبره به ومنی نو نجات او ژغورنه (خلاصی) راکړه ماته او هغه چاته چه

له ماسره دی له مؤمنانو یعنی ما او ځما ملګری له دوی ځنی بیل کړه! او بیا د دوی بیړی دوبه کړه!.

كَذَّبَتْ عَادٌ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٢٣﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ هُودٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٢٤﴾
إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٢٥﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٢٦﴾ وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ
مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٢٧﴾ أَتَبْنُونَ بِكُلِّ رِيعٍ آيَةً
تَعْبَثُونَ ﴿١٢٨﴾ وَتَتَّخِذُونَ مَصَانِعَ لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُونَ ﴿١٢٩﴾

نسبت د دروغو کړی ؤ عادیانو رسولانو ته کله چه وویل دوی ته (قومی) ورور د دوی هود چه آیا نه ویریږئ تاسی (له عذابه د الله په شرک خپل؟) بیشکه زه یم تاسی ته رسول امانتګر نو وویریږئ تاسی له الله (په ځان ساتلو له معاصیو) او اطاعت وکړئ تاسی ځما (په شرعیه ؤ امورو کښی) او نه غواړم زه له تاسی نه پر دغه (تبلیغ) هیڅ اجر (بدل، عوض) نه دی اجر ځما مګر پر رب (پالونکی) د عالمیانو دی. آیا جوړوئ تاسی پر هر هسک (اوچت) ځای (لویه لیاره) نښه هسکه (اوچته) (چه پکښی کینئ او) عبثیات کوئ (او ملندی ووهئ پر عابرینو) او جوړوئ (پاخه او کلک) مصنوعات ښائی چه تاسی به تل اوسیږئ (په دنیا کښی).

**تفسیر** : دغه خلق د دی خبری ډیر شوقیان ؤ چه ډیر هسکی (اوچتی) مناری «څلی» جوړ کړی که له هغه ځنی بله څه ګټه او فائده په لاس ورنشی خو تش نوم به ئی کیږی او د خپلی هستوګنی مانی به ئی هم مکلفی کلکی او مضبوطی جوړولی او خامخا به ئی خپل اموال پری ضائع کول او د هغه په هره برخه او څانګه کښی به ئی لوی مهارت او کاریګری څرګندوله (ښکاره کوله) ګواکی دوی به داسی ګڼل چه دغه مانی او دغه یادګارونه او یادونی به تل ترتله همیشه باقی پاتی وی او له سره به نه ورانیږی لیکن نن وګورئ چه د دنیا په مخ کښی د هغو نوم او نښه هم نه ده پاتی.

وَإِذَا بَطَشْتُمْ بَطَشْتُمْ جَبَّارِينَ ﴿١٣٠﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٣١﴾

او کله چه لاس اچوئ تاسی چاته منګلی لګوئ په جبر (او ظلم سره). نو وویریږئ تاسی له الله (په ځان ساتلو له معاصیو) نه او اطاعت وکړئ تاسی ځما(په شرعیه ؤ امورو کښی)

**تفسیر :** یعنی تاسی پخپل ظلم، ستم، او تیری سره تر لاس لاندی کمزوران مه تنګ او خفه کوئ ګواکی د انصاف نرمی، پستوالی او ملاطفت لوست مو له سره نه دی لوستی چه د الله تعالیٰ ضعیف مخلوق مو د ظلم جبر او تعدی مورد ګرځولی دی. راشئ! له الله تعالیٰ څخه وویریږئ او له ظلم تکبر او لوئ څخه لاس واخلئ! او ځما دغه خبره ومنئ!.

وَاتَّقُوا الَّذِيْٓ اَمَدَّكُمْ بِمَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۳۲﴾ اَمَدَّكُمْ بِاَنْعَامٍ وَّبَنِيْنَ ﴿۱۳۳﴾ وَجَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿۱۳۴﴾ اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۳۵﴾

او وویریږئ تاسی له هغه (الله) چه احسان مددګاری ئی کړی ده له تاسی سره په هغه څیز چه پوهیږی پری مددګاری احسان ئی فرمایلی دی پر تاسی په (اعطاء د) مواشیو او ځامنو او باغونو او چینو. بیشکه چه ویریږم زه پر تاسی له عذابه د ورځی ډیری لوئی (د قیامت چه ډیر لوی دی عذاب ئی که مخالفت وکړئ تاسی له مانه په شرعیهؤ امورو کښی).

**تفسیر :** یعنی تاسی خو دغومره فکر وکړئ او خپل عقل وچلوئ! چه بالاخر دغه سازسامان وسائل تاسی ته چا درکړی دی؟ آیا د هغه حقیقی منعم څه حق ستاسی په غاړه شته؟ که نه؟ که تاسی پخپلو دغو شرارتونو او سرکشیو کښی دوام وکړئ نو زه اندیښنه کوم او ویریږم چه تاسی هم د پخوانیو اقوامو په شان په کوم سخت عذاب او آفت کښی اخته او لتاړ (برباد) نشئ! وګورئ ما خو تاسی ته پوره پند او نصیحت درکړی دی اوس تاسی خپلی آخری خاتمی او انجام ته په ښه فکر او غور سره وګورئ!.

قَالُوْا سَوَآءٌ عَلَيْنَآ اَوَعَظْتَ اَمْ لَمْ تَكُنْ مِّنَ الْوٰعِظِيْنَ ﴿۱۳۶﴾ اِنْ هٰذَآ اِلَّا خُلُقُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۳۷﴾ وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ ﴿۱۳۸﴾

وویل (عادیانو هود ته) برابره (خبره) ده پر مونږ باندی آیا پند راکړی (ته

مونږ ته) یا که نه ئی ته له پند راکوونکیو. نه دی دغه (موت او حیات یا وعظ او نصیحت د تا) مګر عادت خوی د پخوانیو (خلقو) او نه یو مونږه چه په عذاب به کړی شو (په دغو چارو خپلو)

**تفسیر :** یعنی عادیانو هود علیه السلام ته وویل چه د تا پند او نصیحت بیکاره دی د دغو جادو (کودو) زور پر مونږ باندی نه چلیږی. دغه عادت له قدیم راهسی جاری دی چه ځینی خلق خپل ځان نبی جوړوی. او خلق له عذابونو څخه ویروی او دغه د مړ کیدلو او ژوندی کیدلو د قصی سلسله هم له پخوا راهسی دوام لری نو مونږ له دغو خبرو او اترو څخه بیخی نه متأثر کیږو او پر هم هغه دود (دستور) او طریقه چه ځمونږ پلرونه او نیکه‌ګان تللی دی مونږ هم ځو او له هغه څخه هیڅکله لری کیدونکی نه یو او نه د عذاب د ویرولو او دارولو څخه ویریږو. او نه ځمونږ پر زړه دغه څه اثر غورځولی شی.

فَكَذَّبُوهُ فَأَهْلَكْنَاهُمْ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٣٩﴾
وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿١٤٠﴾

پس تکذیب وکړ (عادیانو) د دغه (هود په دغه عذاب) پس هلاک کړل مونږ دغو (عادیانو) لره بیشکه په دغه (اهلاک د عادیانو کښی) خامخا لویه نښه (د قدرت او د عبرت) ده، او نه وو زیاتره دوی مؤمنان. او بیشکه رب ستا خامخا هم دی ښه غالب قوی دی (په انفاذ د احکامو) ډیر رحم والا (په اکرام د اجر او ثواب سره).

**تفسیر :** پس هلاک کړل مونږ عادیان یعنی سخته سیلی او شدید باد ئی ورولیږه دغه قصه پخوا له دی نه د «الاعراف» په سورت او نورو ځایونو کښی هم مفصله تیره شوی ده.

كَذَّبَتْ ثَمُودُ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٤١﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ صَالِحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٤٢﴾
إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٤٣﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٤٤﴾ وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ
مِنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٤٥﴾ أَتُتْرَكُونَ فِي مَا هَاهُنَا

اٰمِنِيْنَ ﴿١٤٦﴾ فِيْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿١٤٧﴾ وَّزُرُوْعٍ وَّنَخْلٍ طَلْعُهَا هَضِيْمٌ ﴿١٤٨﴾
وَتَنْحِتُوْنَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوْتًا فٰرِهِيْنَ ﴿١٤٩﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿١٥٠﴾

نسبت د دروغو کړی ۋ ثمودیانو رسولانو ته. کله چه وویل دوی ته (قومی) ورور د دوی صالح چه آیا نه ویریږئ تاسی (له عذاب د الله په شرک خپل؟) بیشکه زه تاسی ته رسول یم امانتگر نو وویریږئ تاسی له الله نه (په ځان ساتلو له معاصیو) او اطاعت وکړئ تاسی ځما (په شرعیه ۋ امورو کښی) او نه غواړم زه له تاسی څخه پر دغه (تبلیغ) هیڅ اجر (بدل عوض) او نه دی اجر ځما مگر پر رب (پالونکی) د عالمیانو دی. آیا پری به ښودل شئ تاسی (بلکه پری به نښودل شئ) په هغو (نعمتونو) کښی (چه په دی دنیا کښی تاسی ته حاصل دی) په امان ( له آفاتو) په باغونو کښی او (په) چینو (کښی) او په کښتونو (فصلونو) (کښی) او (په) خرماگانو چه میوه (وړی، شگوفه) د هغو لطیفه پسته وی او کینئ (جوړوئ) تاسی له غرونو څخه (په غرونو کښی) کورونه په دغه حال کښی چه ماهران یئ په دغه مکلف توړلو سره نو وویریږئ تاسی له الله (په ځان ساتلو له معاصیو) او اطاعت ۋکړئ تاسی ځما (په شرعیه ۋامورو کښی).

**تفسیر :** یعنی آیا څه خیال لرئ چه تل به په هم دغه عیش، عشرت، باغ، بهار، آرامی او هوسائی (راحت) کښی خوندونه او مزی کوئ؟ او غرونه به توړئ او د هغو په مکلفو او تینگو او مأمونو او مصئونو کورونو کښی به کینئ؟ او له سره به له هغو څخه نه وځئ؟ یا دغه کلکی مضبوطی او ساتلی خونی (کورونه) به تاسی ته د الله تعالیٰ د عذابه نجات درکړئ؟. دغه چتی (بیکاره) اندیښنه له خپلو ماغزو څخه وباسئ!. او له الله تعالیٰ څخه وویریږئ؟ او ځما خبره ومنئ!. چه زه ستاسی د ښیگڼی (فائدی) او نیکئ دپاره خبری کوم.

وَلَا تُطِيْعُوْٓا اَمْرَ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿١٥١﴾ الَّذِيْنَ يُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ وَلَا يُصْلِحُوْنَ ﴿١٥٢﴾

او مه منئ تاسی امر (حکم خبره) د اسراف کوونکیو (له حده تیریدونکیو کفارو) هغه مسرفان چه فساد کوی دوی په ځمکه (د حجر کښی په ظلم او کفر سره) او نه کوی اصلاح (د کار خپل چه عبادت وکړی او له فساده

ځان وساتی).

**تفسیر :** دغه ئی عوامو ته فرمائلی دی چه تاسی په دغو لویو مفسدانو پسی مه ځئ! او خامخا خپل ځانونه مه تباه کوئ! ځکه چه هغوی خو په ځمکه کښې د خرابی خوروونکی دی. اصلاح کوونکی او نیک صلاح ورکوونکی سری نه دی.

قَالُوٓا اِنَّمَآ اَنۡتَ مِنَ الۡمُسَحَّرِيۡنَ ﴿۱۵۳﴾ مَآ اَنۡتَ اِلَّا بَشَرٌ مِّثۡلُنَا ۚ فَاۡتِ بِاٰيَةٍ اِنۡ كُنۡتَ مِنَ الصّٰدِقِيۡنَ ﴿۱۵۴﴾

نو وویل (ثمودیانو) بیشکه هم دا خبره ده چه ته له هغو (کسانو څخه ئی چه) ډیر سحر پری کری شوی وی (او له ډیره سحره مغلوب العقل گرځیدلی وی). نه ئی ته مگر یو بشر (انسان) ئی په شان ځمونږ (که ته اصرار لری په رسالت خپل) نو راوړه څه معجزه که ئی ته له صادقانو رښتینو (په دغی دعوی کښې).

**تفسیر :** یعنی له مونږ ځنی کومه یوه خبره په تا کښې زائده شته چه ته په مونږ کښې نبی گرځیدلی یئ معلومیږی چه پر تا باندی چا جادو او کودی کړی دی چه د هغو په اثر ستا عقل زایل او بی هوشه شوی یی (العیاذ بالله) ته نه ئی مگر یو سری ئی ځمونږ په شان نو څه سبب دی چه ته پیغمبر شوی او مونږ نه شوو؟ او که په دغه دعوی کلک ولاړ یی او په رښتیاء سره ته نبی یی او له مونږ ځنی ته ممتازه درجه لری. نو د الله تعالیٰ له طرفه مونږ ته داسی یوه معجزه راوښیه چه مونږ د هغی په لیدلو سره ستا نبوت ومنو. بیا نو دوی داسی غوښتنه وکړه چه له دغه غره د دغی غتی تیږی (گټی) څخه مونږ ته یوه اوښه راوباسه چه پر دغسی او هغسی صفاتو مشتمله وی. حضرت صالح علیه السلام دعاء وفرمایله او الله تعالیٰ په خپل کامله قدرت سره هغه د قدرت نښه هغوی ته ورو ښووله.

قَالَ هٰذِهٖ نَاقَةٌ لَّهَا شِرۡبٌ وَّلَـكُمۡ شِرۡبُ يَوۡمٍ مَّعۡلُوۡمٍ ﴿۱۵۵﴾ وَلَا تَمَسُّوۡهَا بِسُوۡٓءٍ فَيَاۡخُذَكُمۡ عَذَابُ يَوۡمٍ عَظِيۡمٍ ﴿۱۵۶﴾

وویل (صالح) دا اوښه ده (معجزه د نبوت ځما په غوښتنه د تاسی) دی ته

برخه (د اوبو) ده او تاسي ته برخه (د اوبو) د ورځې معلومې ده. او مه
رسوئ تاسي دې (اوښې) ته هيڅ ضرر (كه نه) پس وبه نيسي تاسي لره
عذاب د ورځې لوئې د قيامت چه لوی دی عذاب ئې).

**تفسير :** حضرت شاه صاحب ليكي : ـ «اوښه پيدا شوې وه له تيږې (ګټې) څخه د الله تعالىٰ
په قدرت او د حضرت صالح عليه السلام په دعاء سره او سر خوشې (ازاده) به ګرځيده. په هره
صحرا او بيديا كښې چه دغه اوښه څر ته تله. يا هر تالاو او ډند ته به چه د اوبو څښلو دپاره
تله نور ګرد (ټول) حيوانات به ترې تښتيدل او پټيدل. بالاخر ئې داسې سره وتاكله (مقرر كړه)
چه يوه ورځ دې دغه اوښه اوبو ته لاړه شي او په بله ورځ دې نور مواشي اوبو څښلو ته لاړ شي.
او دوی ته وويل شول چه لاس مه وروړئ تاسې دې اوښې ته په بدی سره كه نه پس وبه نيسي
تاسي لره عذاب د يوې لوئې ورځې يعنې دغې اوښې ته په بدی مه وروړاندې كيږئ كه نه لوی
عذاب به درباندې نازل شي.

فَعَقَرُوهَا فَأَصْبَحُوا نَادِمِينَ ﴿١٥٧﴾ فَأَخَذَهُمُ الْعَذَابُ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ
أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٥٨﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿١٥٩﴾

پس زخمي مړه كړه (ثموديانو) دغه اوښه پس صبا ته وګرځيدل نادمان
پښيمانه (په زخمي كولو د اوښې) پس ونيول دوی عذاب (نو هلاك شول)
بيشكه په دغه (ناقه او اهلاك د ثموديانو كښې) خامخا لوی دليل (د قدرت
او عبرت) دی او نه ؤ زياتره د دوی مؤمنان او بيشكه رب ستا خامخا هم
دی دی ښه غالب قوی (په انفاذ د احكامو) ډير رحم والا په انعام د اجر او
ثواب سره)

**تفسير :** د يوې بدكارۍ ښځې كره ډير مواشي ؤ. نو دا د هغو په څرولو او اوبو كولو كښې د
هغې اوښې لامله (له وجې) په زيات تكليف كښې وه. بالاخره يو خپل يار ئې ولمساوه چه د
دغې اوښې پښې پرې كړې له دغو پرې كولو څخه درې ورځې وروسته عذاب پر دوی نازل شو
(موضح القرآن) دغه قصه پخوا له دې نه مفصله ليكلې شوې ده.

كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٦٠﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ لُوطٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٦١﴾ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٦٢﴾

فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿١٦٣﴾ وَمَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۚ اِنْ اَجْرِيَ
اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦٤﴾ اَتَاْتُوْنَ الذُّكْرَانَ مِنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦٥﴾
وَتَذَرُوْنَ مَا خَلَقَ لَكُمْ رَبُّكُمْ مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ ۭ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ عٰدُوْنَ ﴿١٦٦﴾

نسبت د دروغو کړی ؤ قوم د لوط رسولانو ته. کله چه وویل دوی ته (نوعی) ورور د دوی لوط آیا نه ویریږئ تاسی (له عذابه د الله په شرک خپل؟) بیشکه زه چه یم تاسی ته رسول یم امانتگر نو وویریږئ له الله (په ځان ساتلو له معاصیو) نه او اطاعت وکړئ ځما (په شرعیهؤ امورو کښی) او نه غواړم زه له تاسی څخه پر دغه (تبلیغ) باندی هیڅ اجر (بدل، عوض) نه دی اجر ځما مگر پر رب (پالونکی) د عالمیانو دی. آیا راتگ کوئ تاسی (په لواطت کولو) نارینهؤ ته له خلقو او پریږدئ تاسی هغه چه پیدا کړی دی تاسی ته رب ستاسی له ښځو ستاسی، بلکه تاسی چه یئ یو قوم یئ له حده تیریدونکی (له حلاله حرامو ته).

**تفسیر** : یعنی په ګرد (تول) جهان کښی یواځی نارینه ستاسی د شهوت بهولو دپاره پاتی ؤ. یا په توله دنیا کښی یواځی هم دا تاسی پر دغه شنیع فعل مرتکب کیږئ چه د دغه خلاف‌الفطرت فعل په کولو د انسانیت له حدودو هم د باندی وتلی یئ!.

قَالُوْا لَىِٕنْ لَّمْ تَنْتَهِ يٰلُوْطُ لَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُخْرَجِيْنَ ﴿١٦٧﴾

وویل (قوم د لوط) قسم دی خامخا که وانه وښتی (چپ نشوی له دغو خبرو څخه) ای لوطه ! نو خامخا شی به ته هرومرو (خامخا) له ایستل شویو (له دغه ښاره یعنی وبه دی شړو له دی ځایه).

**تفسیر** : یعنی ای لوطه! چپ شه! او دومره وعظ پریږده ! که ته پخپلو دغو غبریدلو سره خامخا مونږ په تنګوی! نو تا به له دغه کلی څخه د باندی وشړو.

قَالَ اِنِّيْ لِعَمَلِكُمْ مِّنَ الْقَالِيْنَ ﴿١٦٨﴾

وویل (لوط) بیشکه زه له دی (بد) عمل ستاسی سره له بغض لرونکیو یم. (او

ترى بى زاره يم).

تفسير : نو ځکه خامخا به زه پر دغه د نفرت اظهار کوم. او له نصيحت او پند ورکولو څخه به له سره نه چپ کيږم.
کله چه لوط عليه السلام له خپل قوم څخه مأيوس شو، نو داسی دعاء ئی وکړه:

رَبِّ نَجِّنِي وَأَهْلِي مِمَّا يَعْمَلُونَ ﴿١٦٩﴾

ای ربه ځما نجات راکړه ماته او اهل ځما ته له (عذابه) د هغو کارونو چه دغه (قوم) ئی کوی .

تفسير : يعنی د دوی له نحوسته او وبال څخه مو وساته! او دوی پرته (علاوه) له مونږه تباه او غارت کړه .

فَنَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ أَجْمَعِينَ ﴿١٧٠﴾ إِلَّا عَجُوزًا فِي الْغَابِرِينَ ﴿١٧١﴾

پس نجات ورکړو مونږ دغه (لوط) ته او اهل د ده ټولو ته. مگر (نجات مو ورنه کړ) يوی بوډی ښځی ته چه په (جمله) د باقی پاتی کيدونکيو (په عذاب) کښی وه .

تفسير : دغه بوډی د ده ښځه وه چه له دغو بدکارانو سره متحده او متفقه وه نو کله چه د الله تعالیٰ عذاب نازل شو دا هم له هغو سره يو ځای هلاکه او تباه شوه.

ثُمَّ دَمَّرْنَا الْآخَرِينَ ﴿١٧٢﴾ وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ مَطَرًا فَسَاءَ مَطَرُ الْمُنْذَرِينَ ﴿١٧٣﴾

بيا هلاک کړل مونږ هغه نور. او مو وراوه پر دوی باندی باران (د کاڼو) پس بد باران د ويرول شويو (باران د دوی) ؤ.

تفسير : يعنی د هغوی کلی له پلوه (طرفه) پر بل مخ واړول شول او له آسمانه پری کاڼی وورول شول چه بالاخر د يوی غوندی په شان واوښتل د دوی مفصله قصه هم په «الاعراف» او هم په نورو ځايونو کښی ليکلی شوی ده .

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٧٤﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿١٧٥﴾
كَذَّبَ أَصْحَابُ الْأَيْكَةِ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٧٦﴾

بیشکه په دغه (اهلاک د قوم د لوط کښې) خامخا لوی دلیل (د قدرت او عبرت) دی او نه ؤ زیاتره د دوی مومنان. او بیشکه رب ستا خامخا هم دی ښه غالب دی (په انفاذ د احکامو) ډیر رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره) نسبت د دروغو کړی ؤ صاحبانو د ځنګل (د ونو) رسولانو ته.

**تفسیر :** ابن کثیر رحمة الله علیه لیکلی دی چه «اصحاب الایکه» هم هغه د مدین قوم دی «ایکه» یوه ونه وه چه دغو خلقو به د هغی ونی عبادت کاوه نو په هم دغه مناسبت دوی ته «اصحاب الایکه» وائی او د هم دغه په سبب ئی شعیب علیه السلام ته د دوی د «اخوهم» سره تعبیر ونه فرمایه. ځکه چه د انبیاؤ اخوت به محض پر قومی او نسبی تعلقاتو مبنی ؤ که «مدین» ئی فرمایلی وی نو بیا د «اخوهم» ویل موزون ؤ. «اصحاب الایکه» ئی فرمایلی په یو مذهبی نسبت سره ئی ذکر وکړو نو په دغه حیثیت اخوهم فرمایل د حضرت شعیب علیه السلام له شانه سره مناسب نه ؤ. په هر حال «مدین» او «اصحاب الایکه» یو قوم دی. او حضرت شعیب علیه السلام د هم دغه قوم په طرف مبعوث شوی دی پخوا له دی نه هم د ده په متعلق څه بحث تیر شوی دی.

إِذْ قَالَ لَهُمْ شُعَيْبٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٧٧﴾ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٧٨﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٧٩﴾
وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٨٠﴾ ۞ أَوْفُوا الْكَيْلَ
وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُخْسِرِينَ ﴿١٨١﴾ وَزِنُوا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيمِ ﴿١٨٢﴾

کله چه وویل دوی ته شعیب چه آیا نه ویریږئ (له عذابه د الله په شرک خپل). بیشکه زه چه یم تاسی ته رسول یم امانتګر نو وویریږئ تاسی له الله او اطاعت وکړئ ځما (په شرعیهؤ امورو کښې) او نه غواړم زه له تاسی څخه پر

دغه (تبلیغ) هیڅ اجر (بدل، عوض) نه دی اجر ځما مګر پر رب (پالونکی) د عالمیانو دی. پوره ورکوئ تاسی پیمانه (کله چه چاته غله پیمانه کوئ) او مه کیږئ له کمو ورکوونکیو (د پیمانی) نه او تول کوئ تاسی په تله برابره سره (او هیڅ کمی په هیڅ شان شی کښی مه کوئ!).

**تفسیر :** یعنی په معاملاتو کښی خیانت او بی انصافی مه کوئ! هم هغسی چه د اخیستلو په وقت کښی ئی پوره اخلئ. او په هم هغه شان سره ئی تلئ او پیمانه کوئ! نو د ورکولو په وقت کښی ئی هم پوره تلئ او پیمانه کوئ!.

وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿١٨٣﴾

او مه کموئ تاسی خلقو ته شیزونه د دوی (او په هیڅ شیز کښی د دوی حقوق مه ستنوئ! (منع کوئ) او مه ګرځئ تاسی په ځمکه کښی په دغه حال کښی چه فساد کوونکی اوسئ.

**تفسیر :** یعنی په ملک کښی داړه مه اچوئ! او د خلقو حقوق مه تلف کوئ!.

وَاتَّقُوا الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالْجِبِلَّةَ الْأَوَّلِينَ ﴿١٨٤﴾ قَالُوا إِنَّمَا أَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِينَ ﴿١٨٥﴾
وَمَا أَنْتَ إِلَّا بَشَرٌ مِثْلُنَا وَإِنْ نَظُنُّكَ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ ﴿١٨٦﴾

او وویریږئ له هم هغه (الله) ځخه چه پیدا کړی ئی یئ تاسی او خلق ړومبنی وویل (اصحٰب الایکه) بیشکه هم دا خبره ده چه ته له سحر کړو شویو نه ئی (چه له ډیره سحره دی عقل مغلوب شوی دی) او نه ئی ته مګر یو بشر انسان په شان ځموږ او بیشکه شان دا دی چه موږ ګمان کوو پر تا چه خامخا (ته ئی) له (جمله) د دروغوجنانو (په دغه دعوی خپله کښی)

**تفسیر :** یعنی د نبوت په دعوی کښی او د عذابونو په انذار او نورو وعدو او وعیدو او خبرو کښی.

فَأَسْقِطْ عَلَيْنَا كِسَفًا مِنَ السَّمَاءِ إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ ﴿١٨٧﴾

پس راوغورځوه پر مونږ یوه ټوټه له آسمانه که ئې ته له صادقانو رښتینو (په دغه دعوی خپله کښې).

**تفسیر** : یعنی که ته ای شعیبه! صادق او رښتین ئې نو د آسمان یا د وریځو کومه ټوټه ولې پر مونږ باندې نه غورځوی! او نه مو پرې وژنې!؟.

قَالَ رَبِّيٓ أَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٨٨﴾

وویل (شعیب) رب ځما ښه عالم دی په هغو کارونو چه تاسې ئې کوئ (نو جزاء به درکړی په هغو).

**تفسیر** : یعنی دغه خبره خو یواځې الله تعالیٰ ته ښه معلومه ده چه پر کوم جرم باندې به په کوم وقت او څومره سزا ورکړی شي؟ د عذاب نزول ځما کار نه دی. ځما کار یواځې دعوت تبلیغ او ویښول دی چه دغه مې انجام ته رسولی دی.

فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَهُمْ عَذَابُ يَوْمِ ٱلظُّلَّةِ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٨٩﴾

پس نسبت د دروغو وکړ دغو (صاحبانو د ځنګل) هغه (شعیب) ته نو ونیول دوی عذاب د ورځې د سیوری بیشکه چه دغه (عذاب) وه عذاب د ورځې ډیرې لوئې (چه ډیر لوی دی عذاب ئې).

**تفسیر** : د سایوان په شان داسې وریځ راغله چه له هغه څخه اور اوریده، د لاندې په ځمکه کښې سخته زلزله شوه او یو سخت ویروونکې غږ او کریکه هم پورته شوه او په دې ترتیب ګرد (ټول) قوم تباه شو. دغه قصه پخوا له دې نه هم مفصله تیره شوی ده. هلته دې بیا په هغو تفاسیرو یو نظر وغورځاوه شي!.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَءَايَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٩٠﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ
لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٩١﴾ وَإِنَّهُۥ لَتَنزِيلُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٩٢﴾ نَزَلَ بِهِ
ٱلرُّوحُ ٱلْأَمِينُ ﴿١٩٣﴾ عَلَىٰ قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ ٱلْمُنذِرِينَ ﴿١٩٤﴾

بیشکه چه په دغه (عذاب د صاحبانو د څنګل) کښې خامخا لوی دلیل (د قدرت او عبرت) دی او نه ؤ اکثر د دوی مؤمنان. او بیشکه رب ستا خامخا هم دی دی ښه قوی غالب (په انفاذ د احکامو) ډیر رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره) او بیشکه دغه (قرآن) خامخا نازل کړی شوی دی له (طرفه د) رب د عالمیانو (شعر سحر او باطلی قصی نه دی) نازل شوی دی په دغه قرآن سره روح امانتګر (یعنی راوړی دی دا قرآن جبریل الامین) پر زړه ستا دپاره د دی چه شی ته له ویروونکیو (خلقو له عذابه د الله)

**تفسیر :** د سورت په ابتداء کښې د لوی قرآن ذکر ؤ او د ده پر تکذیب انذار ورکړی شوی ؤ په منځ کښې د حق د مکذبینو واقعات بیان شول. له دی ځایه بیا د هم هغه سابق مضمون طرف ته عود کړی شوی دی یعنی لوی قرآن کریم هغه مبارک او عظیم الشان کتاب دی چه رب العالمین نازل کړی دی او د جبریل امین علیه السلام په وسیله ستا پر پاک او صاف زړه لیږلی شوی دی. هم دغه پاک زړه ؤ چه د الله تعالیٰ په علم کښې د دغه دروند امانت د پورته کولو او ساتلو وړ (قابل) او لائق ؤ. لکه چه قرآنی وحی راغله او سم ستا په زړه کښې ئی ځای ونیو. تا هغه ګردی (تولی) د خپل زړه په غوږونو سره واوریدی او پری وپوهیدی او محفوظی دی پکښی وساتلی. ښائی د «علیٰ قلبک» په لفظ کښې دغه ته هم اشاره وی چه د وحی نزول داسی دوه کیفیتونه درلودل (لرل) چه په صحیحه ؤ احادیثو کښې وارد شوی دی. یعنی کله به د «صلصلة الجرس» په شان راتله او کله به پرښتی مخامخ راتللی او د انسان په شان به ئی بالمشافه خبری کولی په دغو کښې به د قرآن وحی اغلباً په ړومبنی کیفیت سره راتله. ځکه چه په دواړو حالتونو کښې د محققینو په نزد فرق دغه ؤ چه په ړومبنی حالت کښې نبی له بشریت څخه منخلع کیده او د ملکیت په طرف به ته. ګواکی په دغه وقت کښې جسدانیه آلات بالکل معطل کیدل او یوائی له روحی قوتونو او قلبی حواسو او باطنی مشاعرو څخه به ئی کار اخیست. او د زړه په غوږونو سره به ئی د الله تعالیٰ وحی آوریده او د زړه په سترګو به ئی پرښته لیده او په خپل زړه کښې به ئی د الله تعالیٰ په قوتونو سره د هغو علومو تلقی کوله. او محفوظ به ئی ساتل. په خلاف د بل حالت چه په هغه کښې به په هم دغو ظاهری سترګو پرښتی ته کتل. او په هم دغو ظاهری غوږونو سره به ئی د هغی غږ آوریده هم دغه وجه ده چه د وحی د ړومبنی قسم په نسبت په احادیثو کښې فرمایلی شوی دی چه: «هو اشد علیّ: هغه پر ما باندی سخته درنه وی.» ځکه چه په هغی کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم د بشریت له وضعیته د ملکیت په طرف صعود او ترقی کوله والله اعلم.

بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِينٍ ﴿١٩٥﴾

په ژبه عربي ښكاره سره (راوړى دى دغه قرآن جبريل امين پر زړه ستا).

**تفسير :** يعني په نهايت فصيح، مليح، لايح عربي ژبه كښي ئې نازل كړ. له دې ځايه معلوميږي چه له «علىٰ قلبک» څخه دغه مراد نه دى چه يواځې قرآني مضامين د رسول الله صلى الله عليه وسلم پر زړه نازل شوى دى او بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه په خپلو الفاظو سره اداء فرمايلي دي بلكه الفاظ او معاني ګرد (تول) سره يو ځاى د رباني وحى په وسيله د دوى پر مبارک زړه القاء شوى دى.

وَإِنَّهُۥ لَفِى زُبُرِ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٩٦﴾

او بيشكه (مضامين د) دغه (قرآن) خامخا په كتابونو د پرومبنيو كښي (هم ليكلي دى).

**تفسير :** يعني د لوى قرآن او د ده د محترم راوړونكي خبر په پخوانيو آسماني كتابونو كښي موجود دى، پخوانيو انبياؤ پرله پسي دغه پخوا ويل او زيرى ئې كړى دى لكه چه سره له زياتو تحريفاتو او تبديلاتو لا تر اوسه هم د داسي پخوا ويلو يوه ذخيره موندله كيږي او داسي هم مطلب كيدى شي چه د دغه پاک قرآن اكثريه مضامين اجمالاً يا تفصيلاً په پخوانيو كتابونو كښي موندل كيږي خصوصاً توحيد، رسالت، قصص او نور هغه مضامين چه په هغو كښي تول سماويه كتابونه او ګرد (تول) انبياء او مرسلين عليهم الصلوٰة والسلام متفق او متحد دى.

أَوَلَمْ يَكُن لَّهُمْ ءَايَةً أَن يَعْلَمَهُۥ عُلَمَٰٓؤُا۟ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿١٩٧﴾

آيا نه ده دغو (كفارو) ته دليل (په حقانيت د قرآن دا خبره) چه پوهيږي پر دغه (قرآن) عالمان د بني اسرآئيلو (او يقين پرى كوى بلكه لوى حجت دى).

**تفسير :** يعني د بني اسرآئيلو علماء ښه پوهيږي چه دا هم هغه كتاب او رسول الله دى چه د هغه اطلاع په پخوانيو آسماني صحيفو كښي وركړى شوى وه لكه د هغوى څخه ځينو علانيه او ځينو پخپلو مخصوصو مجالسو كښي د دغه حق امر اقرار كړى دى او ځيني انصاف خوښوونكي د هم دغه علم په بناء مسلمان شوى هم دى لكه حضرت عبد الله بن سلام او نور. الغرض د يوه

منصف فهیم دپاره چه د هغه زړه د حق طالب وی او له الله تعالیٰ څخه هم ویرېږی په دغه څيز کښی لوی دلیل د قدرت او عبرت شته چه د نورو مذاهبو علماء هم پخپلو زړونو کښی د دغه عظیم الشان قرآن په حقانیت پوهیږی. اګر که د ځینو عللو او عواملو لامله ( له وجی) په ځینو اوقاتو کښی د هغه په اعلام او اقرار سره جرائت نشی کولی.

وَلَوْ نَزَّلْنَٰهُ عَلَىٰ بَعْضِ الْأَعْجَمِينَ ﴿١٩٨﴾ فَقَرَأَهُۥ عَلَيْهِم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ مُؤْمِنِينَ ﴿١٩٩﴾

او که نازل کړی وی مونږ دغه قرآن پر ځینو عجمیانو باندی پس لوستلی وی (ځینو عجمیانو) دغه (قرآن) پر دغو (کفارو) نو نه به ؤ دوی پر ده باندی ایمان راوړونکی.

**تفسیر :** یعنی تاسی خو د عربو د فصحاؤ څخه یئ ممکن دی د معظمی مکی مشرکان داسی ووائی چه دغه قرآن به تا له خپله ځانه جوړ کړی وی حال دا چه دغه قرآن د اعجاز هغه حد ته رسیدلی دی چه د هغه مثل ټول انسانان او پیریان هم نشی جوړولی او راوړلی خو بیا هم د ویلو دپاره دغسی یو احتمال پیدا کولی شی لیکن د دوی د ضد، عناد، شقاوت او بدبختی حال دا دی چه فرض ئی کړئ که دغه قرآن پر کوم غیر فصیح عرب یا داسی عجمی انسان باندی نازلیدی چه پر یوه حرف عربی ویلو هم قادر نه وی بلکه په فرض محال سره پر کوم لایعقل حیوان نازلیده خو بیا هم دغه خلق د هغه منونکی نه ؤ په دغه وقت کښی به ئی څه نور احتمالات پیدا کول. حضرت شاه صاحب لیکی: «کافرانو به ویل چه قرآن په عربی ژبه راغلی دی او د دغه نبی ژبه هم عربی ده کیږی چه ده پخپله دغه جوړ کړی وی که پر کوم غیری ژبی والا دغه عربی قرآن نازلیده نو مونږ به یقین کاوه الله وفرمایل چه د دغو د مکرونو او فریبونو خاوندانو زړه او ضمیر هیڅکله پر یوه خبره باندی تینګ نه دریږی په دغه تقدیر به بیا دوی څه نه څه شبهه او اعتراض وارداوه چه بل څوک ئی ورزده کوی (موضح القرآن) لکه چه ننه ایستلی دی مونږ تکذیب د قرآن لره په قرآن عجمی

كَذَٰلِكَ سَلَكْنَٰهُ فِى قُلُوبِ الْمُجْرِمِينَ ﴿٢٠٠﴾ لَا يُؤْمِنُونَ بِهِۦ حَتَّىٰ يَرَوُا۟ الْعَذَابَ الْأَلِيمَ ﴿٢٠١﴾ فَيَأْتِيَهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٠٢﴾ فَيَقُولُوا۟ هَلْ نَحْنُ مُنظَرُونَ ﴿٢٠٣﴾

هم داسی ننه ایستلی دی مونږ دا (تکذیب د قرآن) په زړونو د مشرکانو (په قرأت د نبی عربی سره) نه راوړی دوی ایمان په دی (قرآن) تر هغه پوری چه

ووینی دوی عذاب دردناک پس رابه شي (دغه عذاب) دوی ته یو ناڅاپه حال دا چه دوی به نه پوهیږی. پس وائی به دوی آیا یو مونږ چه انتظار راته کاوه شي (چه ایمان راوړو نو وبه ویل شي ورته چه نه)

**تفسیر :** شیخ الهند او ځینو نورو مفسرینو د «سلکناه» ترجمه داسی کړی ده «هم داسی ننه ایستلی دی مونږ دا عناد او انکار په زړونو د مشرکانو کښی الخ» یعنی هغه انسان چه پر جرائمو او ګناهونو عادی شي او خپلی ګردی (تولی) قواوی په شرارت او سرکشی لګوی نو الله تعالیٰ هم سم له خپله عادته د ده زمام (واګی) ور سستوی او د ده په زړه کښی د انکار او تکذیب اثر ته ځای ورکوی دغه تقریر د شیخ الهند رحمة الله علیه له ترجمی سره سم وشو. لیکن ډیر مفسرین د «سلکناه» ضمیر د قرآن په طرف اړوی یعنی قرآن مو په دی ډول (طریقه) سره د مجرمانو په زړونو کښی ورداخل کړی دی چه دوی په خپلو زړونو کښی ښه پوهیږی چه دغه له سره د بشر کلام نشی کیدی خو بیا له ضده او عناده ایمان نه راوړی او در ګرده (توله) تکذیب کوی تر هغه پوری چه په دنیا یا آخرت کښی دردناک عذاب پخپلو سترګو سره ووینی نو هلته به ئی ومنی چه بیشکه نبی رښتین ؤ. او هغه کتاب چه له خپله ځانه سره ئی راوړی ؤ هم رښتیا ؤ. مګر د دغه وقت دا منل به ئی هیڅ په درد نه خوری او څه نفع به نه وررسوی او کوم وقت چه دی د الله تعالیٰ په عذاب یو ناڅاپه اخته شي په دغه وقت کښی به داسی ووائی آیا مونږ ته به د لږ څه مدت دپاره مهلت راکړ شي څو مونږ په هغه کښی خپل اعمال ښه کړو؟ او د انبیاؤ په اتباع کښی زیار (کوشش) وکړو؟ دوی به په دنیا کښی عذاب ژر غوښت اوس چه ورته عذاب ژر رسیدلی دی نو مهلت غواړی.

ویل به کفارو چه دغه موعوده عذاب به کله وی نو الله تعالیٰ داسی فرمائی چه:

أَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُونَ ﴿٢٠٤﴾ أَفَرَءَيْتَ إِن مَّتَّعْنَٰهُمْ سِنِينَ ﴿٢٠٥﴾ ثُمَّ
جَآءَهُم مَّا كَانُوا۟ يُوعَدُونَ ﴿٢٠٦﴾ مَآ أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يُمَتَّعُونَ ﴿٢٠٧﴾

آیا پس په راتلو د عذاب ځمونږ کښی دوی جلتی کوی؟. آیا پس وینی ته خبر راکړه ماته که چیری نفع ورکړو مونږ دوی ته څو کاله (په حیات سره) بیا راشي دوی ته هغه (عذاب) چه ؤ دوی چه وعده ئی کړی شوی وه (له دوی سره) نو نه دفع کوی له دوی نه عذاب هغه شي چه وو دوی چه نفع ورکولی شوه دوی ته (په هغه باندی).

**تفسیر :** یعنی سره د دومره مهلت او ډیل چه پخوا له دی نه دوی ته ورکړی شوی ؤ. هغه به ئی هم په هغه وقت کښی په کار نه ورځی. په دغه وقت کښی د دغو ډیرو کلونو مهلت کالعدم

وربنکاری او داسی به ګنی چه په رښتیا سره دوی دیر ژر نیولی شوی دی: ﴿ كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوٓا۟ إِلَّا عَشِيَّةً أَوْ ضُحَىٰهَا ﴾ (د النازعات ۲ رکوع ٤٦ آیت (۳۰) جزء).

وَمَآ أَهْلَكْنَا مِن قَرْيَةٍ إِلَّا لَهَا مُنذِرُونَ ﴿٢٠٨﴾ ذِكْرَىٰ وَمَا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿٢٠٩﴾

او نه دی هلاک کړی مونږ هیڅ کلی (ښار) مګر چه ؤ هغه کلی او ښار ته ویرووںکی (له عذاب د الله نه) دپاره د ذکر پند ورکولو دوی لره او نه وو مونږ ظالمان (په هلاک د دوی کښی).

**تفسیر :** یعنی د کوم یو قوم د ژوندون خادر هم داسی نه دی تول کړی شوی بلکه پخوا د عذاب له نزوله کافی مهلت ورته ورکړی شوی دی. او ویښوونکی او ویرووںکی هښیار کوونکی نبی ورلیږلی شوی دی څو خلق په غفلت کښی پاتی نه شی. کله چه هغوی په هیڅ ډول (طریقه) د انبیاؤ خبرو ته غوږ نه دی نیولی نو وروسته له هغه ګرد (تول) سره تباه او برباد کړی شوی دی. (العیاذ بالله).

وَمَا تَنَزَّلَتْ بِهِ ٱلشَّيَٰطِينُ ﴿٢١٠﴾ وَمَا يَنۢبَغِى لَهُمْ وَمَا يَسْتَطِيعُونَ ﴿٢١١﴾

او نه دی راوړی دا (قرآن) شیطانانو او نه ښائیږی دوی ته (دغه راوړل) او نه طاقت او قدرت لری (شیطانان د راوړلو د قرآن).

**تفسیر :** په منځ کښی ئی د مکذبینو احوال بیان وفرمایه او بیا د هم هغه اصلی مضمون د تکمیل او تتمیم په طرف کلام اوښتی دی چه: ﴿ وَإِنَّهُۥ لَتَنزِيلُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ نَزَلَ بِهِ ٱلرُّوحُ ٱلْأَمِينُ ﴾ دی. یعنی دغه کتاب د الله تعالیٰ له جانبه جبریل امین راوړی دی. د شیاطینو راوړی شوی نه دی. آیا دغه خبره شیاطینو ته کله ممکنه ده چه د داسی کتاب یو توری هم هغوی ووبلی شی؟ د دوی د طبائعو خاصه خو ضلالت او ګمراهی ده او پرته (علاوه) له فساد او ظلمت خورولو څخه بل څه کار نه لری. او دغه کتاب له اوله تر آخره پوری له رشد او صلاح او د هدایت له نوره ډک دی چه د دی تعلیم په اثر داسی یو مقدس جمعیت تیار شوی دی چه د هغوی په شان د ځمکی پر مخ تر آسمان لاندی ما سواء له انبیاؤ الله څخه بل کوم متقی، صادق، موحد، خائف من الله جمعیت نشته، نو دغه کتاب د علومو او معارفو هیڅ یوه رابطه او مناسبت د شیطانی طبائعو سره نه لری او نه شیطان د دی خبری وړ (مستحق) او لایق دی چه دغسی یو عظیم الشان متبرک د امانت بار پر خپلو اوږو واخیستی شی. ﴿ لَوْ أَنزَلْنَا هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ عَلَىٰ جَبَلٍ لَّرَأَيْتَهُۥ خَٰشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ ٱللَّهِ ﴾ الآیة - (د الحشر ۳ رکوع ۲۱ آیت (۲۸) جزء)

په رواياتو کښې راغلي دي چه ځينو مشرکانو به داسې خيال کاوه چه محمد صلى الله عليه وسلم ته ځينې پيريان راځي او دغه قرآن ورښيي په «صحيح بخارى شريف» کښې راغلي دي چه يو ځلې د وحي په نزول کښې لږ څه معطلي او ځنډ (ايسارتيا) واقع شو. نو يوې ښځې رسول اکرم صلى الله عليه وسلم ته وويل چه «نعوذ بالله»: ستا شيطان ته پريښودي! نو په دغو آياتونو کښې د هم دغو خيالاتو ترديد دى.

إِنَّهُمْ عَنِ السَّمْعِ لَمَعْزُولُونَ ﴿٢١٢﴾

بيشکه دغه شيطانان له اوريدلو (د کلام د پرښتو) خامخا برطرف منع کړى شوى دي.

**تفسير :** يعني د قرآن د نزول په وقت کښې د هغه د حفاظت دپاره داسې زورورى غيبي پيرى درولى شوى دي چه شياطين له سره هغه ته نشي ورنژدې کيدې. او نه يو توري ئې له لياري تښتولى شي کما قال الله تعالىٰ: ﴿ وَأَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَاعِدَ لِلسَّمْعِ ۖ فَمَن يَسْتَمِعِ الْآنَ يَجِدْ لَهُ شِهَابًا رَّصَدًا ﴾ جزء ٢٩ (د الجن (١) رکوع) ٩ آيت ﴿ فَإِنَّهُ يَسْلُكُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ رَصَدًا ﴾ د الجن ٢ رکوع ٢٧ آيت ٢٩ جزء) ﴿ لَا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ ۖ تَنْزِيلٌ مِّنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ ﴾ (د حٰم السجده (٥) رکوع ٤٢ آيت ٢٤ جزء).

**تنبيه :** د شياطينو د غيبي خبرو د آوريدلو دپاره د کوښښ کولو او د دوى ناکام پاتي کيدلو په متعلق د حجر د سورت په شروع کښې مفصل کلام کړى شوى دى هلته دې هغه ولوست شي.

فَلَا تَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ فَتَكُونَ مِنَ الْمُعَذَّبِينَ ﴿٢١٣﴾ وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ ﴿٢١٤﴾ وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٢١٥﴾ فَإِنْ عَصَوْكَ فَقُلْ إِنِّي بَرِيءٌ مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٢١٦﴾

پس مه بوله ته له الله سره معبود بل (حاکم او که دى داسې وکړه) پس شى به ته له عذاب ورکړ شويو. او ويروه ته (له عذابه اى محمده! هغه) خپلوان د تا چه ډير نژدې دي (درته). او ښکته کړه وزر خپل (يعني نرمي وکړه) هغه چاته چه متابعت ئې کړى دى ستا له مومنانو نه. پس که نافرماني وکړى (دغه خپلوان دى له تانه) پس ووايه ته (اى محمده! دوى ته) بيشکه زه بيزاره يم له هغه (شرک او معاصى) چه کوئ ئې تاسې.

**تفسیر :** دغه ئی فرمائلی دی محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ته او اوروِلی ئی دی نورو ته یعنی کله چه دغه کتاب بلاشک او شبهه د الله تعالیٰ له جانبه نازل کړی شوی دی شیطان د یوی ذری په اندازه هم پکښی مداخله نه ده کړی نو د قرآن پر تعلیم ټګ وکړه چه پکښی اصل الاصول توحید دی. د شرک او کفر او تکذیب شیطانی لیاره مه اختیاروه که نه د الله تعالیٰ له عذابه د نجات هیڅ لیاره نشته ځینو مفسرینو دا خطاب عام کړی هر هغه چاته چه صلاحیت د مخاطبی د دی خطاب لری.

یعنی له نورو څخه پخوا خپلو اقاربو او خپلوانو ته تنبیه ورکړئ چه په خیر غوښتلو کښی د دوی حق مقدم دی برسیره په دی د انسانانو د صداقت او حقانیت امتحان او ازموینه هم د خپلو او اقاربو په معاملو کښی اخیست کیږی. حضرت شاه صاحب لیکی: «کله چه دغه آیت نازل شو رسول الله صلی الله علیه وسلم ګردو (ټولو) قریشو ته په زوره واوروه عن تر عمی (ترور) او لور او اکا پوری ئی هم ورساوه چه د خپلو ځانونو دپاره فکر وکړی چه د الله تعالیٰ په حضور کښی تاسی مخامخ کیدونکی یئ او زه هلته ستاسی لپاره هیڅ شی نشم کولی. فرمائی الله تعالیٰ او ښکته کړه وزر خپل یعنی نرمی وکړه هغه چاته چه متابعت ئی کړی دی ستا له مؤمنانو نه یعنی پر مؤمنانو شفقت او زړه سوی ولره! اعم له دی نه چه خپل وی یا پردی پس که نافرمانی وکړی دغه خپلوان دی له تانه پس ووایه ای محمده دوی ته بیشکه زه بیزاره له هغه کار د شرک او معاصی چه کوئ ئی تاسی یعنی هر څوک چه د پاک الله له حکمه مخالفت وکړی که مو خپل یا پردی وی تری بیلتون او بیزاری وفرمایه (موضح).

---

وَتَوَكَّلْ عَلَى الْعَزِيزِ الرَّحِيمِ ﴿٢١٧﴾

---

او توکل وکړه (په ټولو مهماتو کښی) پر ښه قوی غالب (په انفاذ د احکامو) ډیر رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره).

---

**تفسیر :** یعنی نافرمانی کوونکی هر څوک چه وی او هومره چه وی ستا هیڅ نشی خرابولی له ګردو (ټولو) څخه بیزاره! او یواځی پر پاک الله اعتماد او اطمینان ولره چه لوی زبردست ذات دی او د هیچا هیڅ شی د ده په مقابل کښی نشی چلیدی او رحم او مهربانی کوونکی هم دی لکه چه دی له خپلی مهربانی هر وقت پر تا د مهربانی نظر لری او خپل رحمت او عنایت دربان‌دی مبذولوی.

---

الَّذِي يَرَاكَ حِينَ تَقُومُ ﴿٢١٨﴾ وَتَقَلُّبَكَ فِي السَّاجِدِينَ ﴿٢١٩﴾

هغه (الله) چه وینی تا کله چه پاځیږی یواځی (دپاره د تهجد) او (هم وینی) گرځیدل اوښتل راوښتل ستا (په صف د) ساجدانو کښی.

**تفسیر :** یعنی کله چه ته د تهجد دپاره پاځیږی. او د متوسلینو خبر آخلی چه د الله تعالیٰ په یاد کښی شامل دی؟ که تری غافل؟ (موضح) یا کله چه ته د لمانځه دپاره دریږی او د جماعت په لمانځه کښی نقل او حرکت رکوع او سجود او نور کوی او د مقتدیانو حال احوال ته گوری. او ځینو له اسلافو ځخه ویلی دی له ساجدینو ځخه د محمد صلی الله علیه وسلم آباء مراد دی یعنی ستا رڼا د یوه نبی له صلبه د بل نبی تر صلبه پوری انتقال او بالاخر د نبی الله په صورت ستا موجودیت او مبعوثیت بلکه ځینو مفسرینو په دغه لفظ سره د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د والدینو پر ایمان استدلال کری دی والله اعلم.

إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٢٢٠﴾ هَلْ أُنَبِّئُكُمْ عَلَىٰ مَن تَنَزَّلُ ٱلشَّيَٰطِينُ ﴿٢٢١﴾
تَنَزَّلُ عَلَىٰ كُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ ﴿٢٢٢﴾

بیشکه دغه (الله) هم دی دی ښه آوریدونکی (د گردو (تولو) اقوالو) ښه علم والا (په تولو احوالو). آیا خبر درکړم زه تاسی ته (ای مشرکانو) په هغو (خلقو) چه کوزیږی شیطانان (پر هغوی). (بیا پخپله الله فرمائی) کوزیږی (شیطانان) پر هر ډیر دروغجن کذاب ډیر گنهکار.

**تفسیر :** دلته بیا د قرآن په صدق او د شان پر عظمت تنبیه فرمائی یعنی د ساجدینو او تهجد کوونکیو داسی امام ته چه د الله تعالیٰ په معامله کښی د پردی او خپل پروا نه کوی او له گردی (تولی) دنیا ځخه شکولی یواځی پر واحد الله باندی توکل او اعتماد لری آیا داسی ویل کیدی شی چه (معاذ الله) شیطان پری وحی راوړه؟. راځئ چه زه تاسی ته وښیم چه شیطانی وحی پر څه قسم خلقو نازلیږی؟ هغه پر دروغجنانو بدمعاشانو او بدکارانو باندی راځی ځکه چه شیطانان له رښتینو او نیکو انسانانو ځخه بیخی مرور او بیزاره او هغوی ته په بده سترگه گوری او له هغو دروغجنانو دغابازانو مکارانو ځخه خوښی او خوشالی کوی چه د ده له مرضی سره برابر وی. ښه له گردو (تولو) صادقانو ځخه زیات صدیق او له گردو (تولو) نیکانو ځخه زیات نیک او متقی انسان د شیطانی وحی سره څه نسبت لری؟ د رسول الله صلی الله علیه وسلم صدق، امانت، اتقاء، طهارت، خوف عن الله خو هغه عالی اوصاف دی چه د صباوت له وقته د نبوت تر مدت پوری د ده گرد (تول) قوم هغه منلی دی او تسلیموی. تر دی چه «الصادق الامین» لقب د هم دغو له جانبه هم دوی ته ورکری شوی ؤ.

يُلْقُونَ السَّمْعَ وَأَكْثَرُهُمْ كٰذِبُونَ ﴿٢٢٣﴾

چه ږدی (دا شیطانان) غوږ (خبرو د پرښتو ته) او اکثر د دوی دروغجنان دی. (یا غوږځوی شیطان خپلی اوریدلی شوی خبری له ملائکو کاهنانو ته چه افاک اثیم دی او زیاتره د دوی دروغجنان دی چه زیاتری خبری ئی دروغ دی).

**تفسیر :** یعنی شیاطین د یوه نه یوه جزئیهؤ غیبیه ؤ امورو د خبرو په متعلق کوم شیان له ورا د تښتیدلو په منځ کښی اوری په هغو کښی سل نوری خبری له خپله ځانه ګډوی او بیا هغه خپلو کاهنو دوستانو ته رسوی دغه د دوی د وحی حقیقت دی. پر خلاف د دی د انبیاؤ وحی داسی منظمه او مرتبه محفوظه ده چه د هغی یو حرف یو حرکت هم نشی پاتی کیدی. ځینو د «یلقون السمع» معنی داسی اخیسته ده چه شیاطین د ملإ الاعلیٰ په طرف غوږ ږدی که کومه غیبی خبره یا غږ ئی غوږ ته ورسیږی یا دروغجنو ګنهګارانو د شیطان خوا ته غوږونه نیولی وی که کومه خبره له هغوی ځنی واوری او بیا ژر تر ژره ئی خوره کوی.

وَالشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوٗنَ ﴿٢٢٤﴾

او (کافران) شاعران متابعت کوی د دوی ناپوهان (بی لیاری).

**تفسیر :** کافرانو به رسول الله صلی الله علیه وسلم ته استغفر الله کله کاهن، کله شاعر ویل نو دلته فرمائی چه د شاعری خبری محض تخیلات دی او له تحقیق سره بیخی تعلق نه لری نو ځکه په هغه خبره کښی ماسواء د مجالسو تودوالی او د خوښی او ساعت تیری او چرچی او واه واه ویلو بل کوم مستقل هدایت نه دی حال دا چه د دغه رسول الله صلی الله علیه وسلم د پاک صحبت په میمنت او د دغه قرآن په برکت په زرهاؤ سریو د نیکی او هدایت لیاری موندلی دی.

أَلَمْ تَرَ أَنَّهُمْ فِي كُلِّ وَادٍ يَهِيمُونَ ﴿٢٢٥﴾

آیا نه وینی ته چه بیشکه دوی په هری کندی او هری پندی د (خبری) کښی سرګردانه ګرځی (او شکته پکښی ډوبیږی. او پروا نه کوی چه دا حق دی که باطل).

**تفسير :** يعني هر يو مضمون چه د دوى په لاس كښې ولويد نو دوى هغه پسې اوږدوى كه د چا په تعريف او ستاينه (صفت) كښې ولګيدل نو هغه آسمان ته خيژوى او كه د چا په مذمت كښې لګياء شول نو د ګردى (تولى) دنيا عيوب او مذمت په هغه كښې راتولوى. موجود معلوم ګرځوى او له معدوم څخه يو خورا (ډير) ډير ثابت او معلوم او موجود منظوموى الغرض دروغ، مبالغه، تخيل د دوى د كيڼ لاس معمولى لوبى دى په هره صحراء او بيدياء كښې چه يو ځلى دوى سم شى بيا نو دوى بيرته مخ ګرځوونكى نه دى نو ځكه د اشعارو په نسبت مشهور دى چه «اكذبه احسنه».

وَأَنَّهُمْ يَقُولُونَ مَا لَا يَفْعَلُونَ ﴿٢٢٦﴾

او بيشكه دغه (شاعران) وائى هغه چه نه ئى كوى دوى.

**تفسير :** يعني كله چه شاعر اشعار ولولى نو داسى دربنكارى چه د ده قائل به له «يما» او «توروايانا» څخه هم ښه ميره (بهادر) او زړه‌ور او له ځمرى څخه به زيات شجاع وى. او كله چه وئى ګورى نو په انتهائى درجه دارن بى زړه او جبون دربنكارى. او كله بالعكس چه دوى وګورى روغ رمټ پياوړى (تكړه) او مضبوط دربنكارى ولى د دوى د اشعارو له لوستلو څخه داسى درخر ګنديږى (دربنكاريږى) چه د دوى روح قبض شوى يا ئى نبضين له حركته لويدلى دى. اوس به مرى. «حالى» پخپل يو مسدس كښې د دغو دروغو يوه ښه نقشه ايستلى ده. الغرض د الله تعالىٰ دغه معظم رسول چه خاتم الانبياء دى د دغه جماعت سره هيڅ علاقه او ارتباط نه لرى او له هم دغه جهته ئى فرمايلى دى «وما علمناه الشعر وما ينبغى له» د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم هره خبره سره كره، جوته، رښتياء، حقه او روښانه او د تحقيق، عدل او انصاف په ميزان كښې تللى شوى وه هره خبره چه د دوى له مباركى ژبى څخه وته هم هغه به عملاً ليدلى كيده آيا شاعر د داسى صفاتو خاوند دى؟ او شاعر هم دى ته ويلى شى؟. كلا وحاشا ثم كلا وحاشا.

إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَذَكَرُوا اللَّهَ كَثِيرًا وَانْتَصَرُوا مِنْ بَعْدِ مَا ظُلِمُوا ۗ وَسَيَعْلَمُ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَيَّ مُنْقَلَبٍ يَنْقَلِبُونَ ﴿٢٢٧﴾ ع

مګر (نه دى مذموم) هغه (شاعران) چه ايمان ئى راوړى دى او كړى ئى دى دوى ښه (عملونه) او يادوى دوى الله ډير او بدل اخلى (له كفارو په هجو د كفارو) وروسته له هغه چه ظلم كړى شوى وى (پر هغو) او ژر به پوه شى هغه كسان چه ظلم ئى كړى دى چه كوم ځاى ته به بيرته لاړ شى دوى (يعنى بد

ځای ته به لاړ شي پس له مرګه).

**تفسير :** مګر هغه څوک چه په هر شعر کښې د الله تعالىٰ حمد ووائي يا د نيکۍ په لورې ترغيب ورکړي يا د کفر مذمت يا د ګناه خرابۍ څرګنده (ښکاره) کړي يا د هغو کافرانو هجو او بدي ووائي چه د اسلام هجو کوي يا که څوک ده ته ايذاء او ضرر ورسوي د هغه جواب د اعتدال په اندازه ورکړي . نو داسي شعر ويل نه دي مذموم. لکه چه حضرت حسان بن ثابت رضي الله تعالىٰ عنه او نورو به هم داسي اشعار ويل نو ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم پر ده امر صادر کړ چه د کفارو جواب ورکړه روح القدس ستا سره دی.

د «من بعد ما ظلموا» په مناسبت ئې وفرمايل چه: ظالمانو ته به عنقريب خپله آخره خاتمه او انجام معلوميږي چه د دوی اوښ پر کومه دډه پريوځي؟ له ګردو (ټولو) څخه زيات ظلم دا دی چه د الله تعالىٰ کتابونو او انبياؤ ته د دروغو نسبت کوي. او په کاهن او شاعر ويلو سره ئې تکذيب کوي.

**تمت سورة الشعرآء بفضل الله تعالىٰ وحسن توفيقه**

سورة النمل مكية وهي ۹۳ آية و ۷ ركوعات ورقم تلاوتها ۲۷ تسلسلها حسب النزول ٤٨ نزلت بعد الشعرآء.

د «النمل» سورت مکي دی (۹۳) آيتونه (۷) رکوع لري. په تلاوت کښې (۲۷) او په نزول کښې (٤٨) سورت دی وروسته د «الشعرآء» له سورت څخه نازل شوی دی.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

(شروع) په نامه د الله چه خورا (ډير) مهربان، ډير رحم والا دی.

طٰسٓ تِلْكَ اٰيٰتُ الْقُرْاٰنِ وَكِتَابٍ مُّبِيْنٍ ﴿١﴾ هُدًى وَّبُشْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٢﴾ الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ﴿٣﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ زَيَّنَّا لَهُمْ اَعْمَالَهُمْ فَهُمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿٤﴾

دا (آيتونه د دی سورت) آيتونه د قرآن او د کتاب مبين (ښکاره بيانونکی) دی. (دغه قرآن) سمه صافه لياره ښوونکی دی (ټول جهان ته) او زيری ورکوونکی دی مؤمنانو ته (په نعيم سره) هغه (مؤمنان) چه قائموی (سم

اداء کوی سره له تولو حقوقو) لمونځ او ورکوی زکوٰة (د اموالو خپلو) او دوی په (ورځی) آخری (چه قیامت دی) هم دوی یقین کوی (چه خامخا رابه شي په حقه سره) بیشکه هغه کسان چه نه راوړی ایمان په (ورځی) آخری (چه قیامت دی) ښائسته کړی دی مونږ دوی ته (قبیحه) عملونه د دوی پس دوی حیران سرګردانه دی (په دغو بدو اعمالو خپلو کښی).

**تفسیر** : یعنی هر هغه څوک چه له ده سره د آخری خاتمی او انجام فکر او اندیښنه نه وی نو هغه دی د هم دغی فانی دنیا په فکر او اندیښنه کښی ډوب پروت وی او د ده د ګردو (تولو) زیارونو (محنتونو) او کوښښونو مرکز هم دغه څو ورځنی دنیوی ژوندون دی او د هغه کتاب او نبی په طرف له سره نه ګوری چه د دوی مخ له هغه فانی طرف نه د عاقبت او باقی ژوندون په طرف اړوی او متوجه کوی ئی. او نه ورته فکر او توجه کوی دوی په دنیوی عیش او مینه کښی داسی غرق او ډوب تللی دی چه د هادیانو خبرو ته له سره غوږ نه ږدی بلکه پر دوی مسخری کوی او ملندی وهی، پر آسمانی صحائفو طعنی وهی او پر انبیاؤ مزاح کوی او هم دغه وضعیت پخپل فکر او زعم ښه بولی او پرله پسی په هم دغه ګمراهی کښی ترقی او پرمخ تګ کوی.
**تنبیه** : د تزئین نسبت د الله تعالیٰ په طرف له دی حیثیته شوی دی چه د هر شی خالق او مالک هم دی دی پر کوم سبب باندی د مسبب ترتب بی د ده د مشیت او ارادی څخه نشی کیدی لکه چه په نورو ځایونو کښی د اضلال، د ختم د طبع او د نورو نسبت هم ده ته شوی دی د «نمل» د سورت د دغو ابتدائی آیاتونو مضمون د «البقرة» د سورت له ابتدائی آیاتونو سره زیات مناسب او قریب دی نو ښائی د هغو آیاتونو تفاسیر دلته بیا یو ځلی ولوستل شی!.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَهُمْ سُوءُ الْعَذَابِ وَهُمْ فِي الْآخِرَةِ هُمُ الْأَخْسَرُونَ ﴿٥﴾

دا هم هغه کسان دی چه مقرر دی دوی ته ډیر بد عذاب (په دنیا کښی) او دوی په آخرت کښی هم دوی زیانکاران دی.

**تفسیر** : یعنی هلته به له ګردو (تولو) څخه زیات هم دوی په نقصان او خساره کښی پراته وی.

وَإِنَّكَ لَتُلَقَّى الْقُرْآنَ مِنْ لَدُنْ حَكِيمٍ عَلِيمٍ ﴿٦﴾

او بیشکه ته (ای محمده !) خامخا در ښوولی کیږی (دررسیږی) تاته قرآن له نزده د ښه حکمت والا ښه علم والا (چه الله دی).

تفسير : يعنى دغه بدبختان پرېږده چه د ضلالت په تيه (ميره) كښى سرگردانه وگرځى كله چه دوى د عظيم الشان قرآن قدر او عزت ونه پيژندنه او د ده د هداياتو او بشاراتو څخه ئى فائده وانه خستله نو ښائى چه د دوى حال او احوال هم داسى كيدى. تاسى الله تعالىٰ ته شكر وكړئ چه د دغه عليم او حكيم له جانبه له گردو (تولو) څخنى زيات عظيم الشان كتاب (قرآن) تاسى ته مرحمت شوى دى چه له هغه څخه تل تاسى ته جديد جديد فوائد دررسيږى او په هغه كښى مؤمنانو ته بشارات او مكذبانو ته عبرتناكه واقعات اورول شوى دى څو د صادقانو زړونه مضبوط او قوى او د دروغو حمايت كوونكى پر خپلى بدى خاتمى او خراب انجام مطلع شى. لكه چه په هم دى اغراض وروسته له دى نه د حضرت موسىٰ عليه السلام او د فرعونيانو قصه اوروله كيږى.

---

إِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِأَهْلِهِۦٓ إِنِّىٓ ءَانَسْتُ نَارًا

---

(ياد كړه) هغه وقت چه وويل موسىٰ ښځى خپلى ته بيشكه چه ما وليد يو اور (له لرى).

---

تفسير : دغه له «مدين» نه د راتگ په وقت كښى څه وقت چه «دوى وادى» ته ورنژدى شو. كله چه ئى په يوه يخه توره تياره شپه كښى لياره وركه كړى وه د حضرت موسىٰ عليه السلام ويناءِ ده چه له خپلى ښځى بيبى صفوره د شعيب عليه السلام لور سره ئى كوى د دغه مفصله قصه د «طٰهٰ» د سورت په تفاسيرو كښى پخوا تيره شوى ده هلته دى بيا ولوستى شى.

---

سَـَٔاتِيكُم مِّنْهَا بِخَبَرٍ أَوْ ءَاتِيكُم بِشِهَابٍ قَبَسٍ لَّعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ ۝

---

ژر به راوړم تاسى ته له دى (ځاى د اوره) خبر (د حال د ليارى) يا به راوړم تاسى ته لمبه لگولى (په سر د پلتى يا لرگى) دپاره د دى چه تاسى تاوده شئ (په هغه اور).

---

تفسير : يعنى د ليارى خبر او پته تاته راوړم كه د دغه اور سره نژدى څوك وى. كه نه اقلا ستاسى د توديدلو دپاره كومه لمبه يا څكروته به راوړم.

---

فَلَمَّا جَآءَهَا نُودِىَ أَنۢ بُورِكَ مَن فِى ٱلنَّارِ وَمَنْ حَوْلَهَا ط

---

پس كله چه راغى دغه (موسىٰ) هغه (اور) ته غږ وكړ شو داسى چه بركتناك كړى شوى دى هغه چه په دغه اور كښى دى او هغه چه چاپير دى له دغه (اوره)،

**تفسير :** کله چه موسٰی عليه السلام هلته ورسيد دغه خبره ورته معلومه شوه چه دغه دنيوی اور نه دی بلکه غيبي او نوراني اور دی چه په هغه کښې د الله تعالٰی د انوارو آثار ځرګنديږی (رابنکاره کيږی) يا د هغه بريښنا بريښي ښائی چه دغه به هم دا وی چه په حديث کښې د هغه په نسبت فرمايلی شوی دی: «حجابه النار» يا «حجابه النور» بيا له غيبه پری غږ وشو: ﴿ اَنْ بُوْرِكَ مَنْ فِي النَّارِ وَمَنْ حَوْلَهَا ﴾ يعني د ځمکی دغه ټوټه مبارکه ده او په دغه اور کښې چه کومه تجلي ده هغه هم مبارکه ده او د ده په منځ او شاؤ خوا کښې کوم ذوات چه دی هغوی ګرد (ټول) مقدس دی. مثلاً پرښتی، يا پخپله موسٰی عليه السلام. هغه ګرد (ټول) سره مبارک دی. دغه نی اغلباً د موسٰی عليه السلام د مأنوس ګرځولو او د اعزاز او اکرام دپاره فرمايلی دی.

وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٨﴾

او (غږ وکړ شو چه) پاکی ده الله ته چه رب (پالونکی) د عالميانو دی.

**تفسير :** يعني د مکان، زمان، جهت، جسم، صورت، رنګ او د حدوثو د نورو سماتو څخنی د الله تعالی ذات پاک دی. په اور کښې د ده د تجلي دغه معنی نه ده چه معاذ الله په اور کښې به د ده مقدس ذات حلول فرمايلی ؤ؟ عالم رڼوونکی لمر هم په قلعي لرونکی آئينه (هنداره) کښې متجلي کيږی ليکن کوم داسی ناپوه او احمق به پيدا کيدی شي چه داسی ووائی چه د شمسی دومره يوه لويه کره په دغومره يوی وړوکی هنداری کښې ځای نيولی دی؟.

يٰمُوْسٰٓى اِنَّهٗٓ اَنَا اللّٰهُ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٩﴾

ای موسٰی شان دا دی چه زه يم الله ښه غالب قوی (په انفاذ د احکامو) ښه حکمت والا (چه هر کار په تدبير او مصلحت سره کوم).

**تفسير :** يعني په دغه وقت کښې له تا سره زه پخپله غږيدونکی يم دغه ګرده (توله) واقعه مفصلاً د «طٰهٰ» په سورت کښې تيره شوی ده. (بيا غږ ورته وشو داسی چه:)

وَاَلْقِ عَصَاكَ ۚ فَلَمَّا رَاٰهَا تَهْتَزُّ كَاَنَّهَا جَآنٌّ

او وغورځوه همسا خپله (نو ئی وغورځوله) پس کله چه وليدله (موسٰی) هغه

(همسا) چه خوځیدله ګواکی دغه (همسا) یو نری سپین ځغاستونکی مار دی.

**تفسیر :** ښائی په ابتدا کښې به نری وی. یا به د حرکت د سرعت لامله ( له وجی) دغه تشبیه ورکړی شوی وی. نه د جثې د صغارت لامله ( له وجی).

وَّلّٰى مُدْبِرًا وَّلَمْ يُعَقِّبْ ۚ يٰمُوْسٰى لَا تَخَفْ ۫ اِنِّىْ لَا يَخَافُ لَدَىَّ الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۱۰﴾

نو مخ ئې تری وګرځاوه په شا تلونکی او راونه ګرځیده بیرته (نو بیا غږ ورته وشو) ای موسیٰ مه ویریږه (له دی ماره) بیشکه زه چه یم نه ویریږی په نزد ځما مرسلان. (له هیڅ شی نه)

**تفسیر :** یعنی سره له دی نه چه دغه د حضور او اصطفاء مقام ته هم رسیدلی ئی خو بیا هم ویریږی نو دغه ویریدل څه مطلب او معنی لری؟ مرسلانو ته نه دی لائق چه ورروسته ځمونږ د قرب دربار د رسیدلو څخه له همسا یا مار یا د بل کوم مخلوق څخه وویریږی. په دغه مقام کښې ښائی چه د دوی زړونو ته انتهائی سکون او طمانیت حاصل شی.

**تنبیه :** دغه طبیعی خوف دی چه د نبوت سره څه منافات نه لری.

اِلَّا مَنْ ظَلَمَ ثُمَّ بَدَّلَ حُسْنًۢا بَعْدَ سُوْٓءٍ فَاِنِّىْ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۱﴾

لیکن هغه څوک چه ظلم ئې کړی وی (په ځان خپل) بیا بدل راوړی نیکی وروسته له بدی (چه په صدق سره ثابت شی) پس بیشکه زه ښه ښښونکی یم (د خطیاتو) ډیر رحم والا یم (په انعام د اجر او ثواب سره نو د ده توبه به قبلوم او مغفرت ورته کوم).

**تفسیر :** دغه منقطع استثناء ده یعنی وروسته له دی نه چه د الله تعالیٰ قرب ته ورسیدی تاته هیڅ ویره او اندیښنه نه ده په کار خوف او اندیښنه یواځی هغه چاته په کار ده چه کومه ګناه یا خطاء تقصیر ئې کړی وی چه د هغه په نسبت هم ځمونږ په دربار کښې داسی قاعده شته چه وروسته له ګناه که کوم سړی په صدق او اخلاص سره توبه وباسی. او خپل اعمال او احوال اصلاح او درست کړی او د نیکیو او حسناتو په وسیله خپلی بدی او سیآت محو او ورک کړی نو الله تعالیٰ ئې پخپل رحمت سره معافوونکی دی.

حضرت شاه صاحب لیکی: «حضرت موسیٰ په سهو او خطأ سره یو کافر وژلی ؤ نو هم هغه د قصاص ویره د ده په زړه کښې وه چه هغه هم دلته ورروښلی شو».

وَأَدْخِلْ يَدَكَ فِي جَيْبِكَ تَخْرُجْ بَيْضَاءَ مِنْ غَيْرِ سُوءٍ فِي تِسْعِ آيَاتٍ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَقَوْمِهِ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا فَاسِقِينَ ﴿١٢﴾

او ننباسه لاس خپل په ګریوان خپل کښې نو وبه وځی (په خلاف د طبیعی لون خپل) تک سپین بی له کومه عیبه (او مرض پس سره له دی دواړو معجزو چه حساب دی) په نهو معجزو ستا کښې (ورشه) طرف د فرعون ته او قوم د ده ته بیشکه دوی دی یو قوم فاسقان (وتونکی له فرمان).

**تفسیر :** د دغو معجزاتو بیان د «بنی اسرآئیل» په سورت کښې د ﴿ وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَىٰ تِسْعَ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ فَاسْأَلْ بَنِي إِسْرَائِيلَ إِذْ جَاءَهُمْ ﴾ الآیة ـ آیت لاندی لیکلی شوی دی هلته دی ولوست شی.

فَلَمَّا جَاءَتْهُمْ آيَاتُنَا مُبْصِرَةً قَالُوا هَٰذَا سِحْرٌ مُبِينٌ ﴿١٣﴾ وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنْفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا ۚ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ ﴿١٤﴾

پس کله چه راغلل (فرعون او فرعونیانو ته) آیتونه (معجزی د قدرت) ځمونږ ښکاره روښانی نو وویل دوی چه دغه سحر (کوډی) دی ښکاره او منکران شول دوی په دغو (آیاتونو) حال دا چه یقین کړی ؤ په دغو معجزاتو نفسونو د دوی (چه حق او له جانبه د الله دی لیکن انکار تری وکړ دوی) له جهته د ظلم او سرکشی پس وګوره څرنګه ؤ عاقبت (آخره خاتمه) د مفسدانو (من الغرق والحرق).

**تفسیر :** یعنی کله چه وقتاً فوقتاً د دوی د سترګو د خلاصولو دپاره هغه معجزی ورښودلی کیدی نو دوی به ویل چه دغه ګردی (تولی) کوډی او جادو دی حال دا چه د دوی په زړونو کښې په یقینی ډول (طریقه) سره دغی خبری ځای نیولی ؤ چه موسیٰ علیه السلام رښتین دی او دغه معجزی چه راښیئ یقیناً د الله تعالیٰ د قدرت دلائل دی، سحر، جادو، شعبده، نظر بندی او بل کوم باطل شی نه دی او تش د بی انصافی، غرور، او تکبر لامله (له وجی) عمداً او د خپل ضمیر په خلاف د حق تکذیب او له صدق څخه انکار کاوه. بیا نو څه وشو؟ څو ورځی وروسته له دی نه دغه خبره ورمعلومه شوه چه د داسی ضد کوونکیو معاندانو مفسدانو انجام او عاقبت څه

کیږی؟ دوی تول د قلزم د بحیری د امواجو یوه ګوله شول او هیڅ یوه ته ئی ګور او کفن هم نه شو وریه برخه.

## وَلَقَدْ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ وَ سُلَيْمٰنَ عِلْمًا ۚ وَقَالَا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ فَضَّلَنَا عَلٰى كَثِيْرٍ مِّنْ عِبَادِهِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٥﴾

او خامخا په تحقیق ورکړی ؤ مونږ داؤد ته او سلیمان ته (یو خاص) علم، او وویل دواړو چه تولی ثناوی ستائنی (صفتونه) دی الله ته هغه چه مشرتیا (فضیلت) ئی راکړی دی مونږ ته پر ډیرو له (هغو) بندګانو خپلو چه مؤمنان دی.

**تفسیر :** حضرت سلیمان د حضرت داؤد علیهما السلام ځوی ؤ دغه پلار او ځوی ته هر یوه ته الله تعالیٰ د ده له شانه سره مناسب یو خاص علم ورعطاء کړی ؤ. شرایع، احکام، د سیاست اصول، حکومت چلول او نور ګرد (تول) علوم د دی لفظ لاندی داخل شول هغه علم چه الله تعالیٰ داؤد او سلیمان علیهما السلام ته ورکړی ؤ د هغه اثر دا ؤ چه دوی د الله تعالیٰ د انعاماتو شکر اداء کاوه. د الله تعالیٰ د کوم نعمت شکر اداء کول د هغه اصلی نعمت څخه لوی نعمت دی. «پر ډیرو» ئی ځکه وفرمایل چه ډیرو نورو بندګانو ته الله تعالیٰ پر دوی فضیلت ورکړی دی. پاتی شو پر ګردو (تولو) مخلوقاتو کلی فضیلت لرل نو دغه انعام او اکرام په ګردو (تولو) انامو کښی ځمونږ سیدالکونین خاتم المرسلین فخر الاولین والآخرین محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په برخه شوی دی.اللّٰهم صل وسلم و بارک علیه وعلیٰ آله و اصحابه اجمعین.

## وَوَرِثَ سُلَيْمٰنُ دَاوٗدَ

او میراث واخیست سلیمان (نبوت. علم. سلطنت) نه داؤد څخه (له نوره اولاده ئی).

**تفسیر :** یعنی د داؤد علیه السلام په (نولسو) ځامنو کښی د ده اصلی ولی عهد او خلیفه حضرت سلیمان علیه السلام شو چه د ده په مبارک ذات کښی الله تعالیٰ نبوت سلطنت دواړه جمع کړی ؤ او داسی مملکت او حکومت ئی ورعطاء کړی ؤ چه له ده څخه وړاندی او وروسته د بل چا په برخه کښی داسی یو صوری او معنوی، ظاهری او باطنی عظمت او شوکت نه دی جمع شوی. انسانان، پیریان، طیور، هوا، او نور تول ورته مسخر شوی ؤ. لکه چه د «سبأ» په

سورت کښې راغې.

وَقَالَ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ عُلِّمۡنَا مَنطِقَ ٱلطَّيۡرِ

او وويل (سليمان) اى خلقو ښوولې شوى دى مونږ ته خبرې د الوتونکيو مرغانو.

**تفسير** : له دغې خبرې څخه انکار ګواکې د بداهت څخه د انکار په منزلت دى چه طيور او پرندګان کومې خبرې او چر پر چه کوى په هغه کښې تر يوه حد پورې د افهام او تفهيم شان موندلى کيږى. يو مرغه څه وقت چه خپله جوړه ځان ته رابولى. يا د دانې ورکولو دپاره خپلو نورو ملګرو ته هم خبر ورکوى په دغو ګردو (تولو) حالاتو کښې د ده بولى، لهجه او غږيدل له سره يو شان نه دى لکه چه د طيورو مخاطبين او سامعين دغه فرق او توپير (فرق) په ښه شان سره محسوسولى شى نو له دى نه مونږ پوهيدى شو چه د نورو احوالو او ضرورياتو په وقت کښې هم د دوى په دغو چونيدلو کښې اګر که مونږ ته ډير متشابه او متقارب هم راښکاره شى کوم داسې لطيف او خفيف تفاوت او توپير (فرق) به ضرور وى چه پر هغه باندې به دوى پخپلو منځونو کښې سره پوهيږى.
تاسې کومې تيلګراف خانې ته ورشئ او د تيلګراف متشابه کهټ، کهټ ته غوږ کيږدئ که تاسې پر تيلګرافې رموزو او اشاراتو پوه نه يئ نو تاسې ته دغه مطرد او مکرر او متشابه حرکات او اصوات په بادى النظر کښې چټى (بيکاره). مهمل او بى معنى شى درښکارى او بالعکس که کوم تيلګرافى غوږ ورته کيږدى نو على‌الفور د هغو د محتوياتو څخه تاسې ته مفصل معلومات درکوى. ځکه چه دغه تيليګرافى د دغو «تيليګرافيهٔ حرکاتو اصواتو» په مدلولاتو او مفهوماتو پوره پوه او واقف وى. علىٰ هذا القياس څه بعيد دى چه حقيقى واضع د طيورو په نغماتو کښې هم د مختلفو معانيو او مطالبو د اظهار لپاره هم څه فرق او امتياز ايښى وى لکه چه د انسان ووړکى د خپلې مور له ژبې څخه ورو ورو واقفيږى د طيورو چيچان (بچى) به هم د خپل فطرى استعداد په اثر د خپلو نورو بنى نوعو په بوليو پوهيږى او د نبوت د اعجاز په شان به الله تعالىٰ خپل يو نبى ته د دوى د ويناؤ پوه هم ورعنايت کړى وى.
د حيواناتو لپاره د جزئى ادراکاتو حصول خو لا له پخوا څخه مسلم دى. ليکن د يورپ جديد تحقيقات اوس د حيواناتو عاقليت د آدميت تر سرحد پورى قريب کړى دى تر دى چه د حيواناتو د بولى (وينا) د «ابجد» په تيارولو پسى هم لګيدلى دى.
لوى قرآن خبر راکړى دى چه: «هر شى د خپل رب تسبيح او تحميد کوى. ليکن تاسې پرى نه پوهيږئ او هر الوتونکى خپل د صلوٰة او تسبيح څخه واقف دى» په صحيحه ؤ احاديثو کښې د حيواناتو تکلم بلکه د محضه ؤ جماداتو خبرى کول او تسبيح ويل ثابت دى.

له دی نه ظاهر شو چه خپل د خالق اجمالی مگر صحیح معرفت د هر شی په فطرت کښی مفطور او مرکوز دی. نو بیا د دوی پر تسبیح او تحمید او ځینو محاورو او خطاباتو د الله تعالیٰ د ځینو بندګانو د خرق العاده پر ډول (طریقه) مطلع کیدل د عقلیه ؤ محالاتو څخه نه دی.
هو! د عمومی عادت په خلاف هرومرو (خامخا) دی. نو که اعجاز او کرامت له عمومی عادت او معمول سره موافق وی نو هغه ته به څوک اعجاز او کرامت وائی. د عاداتو پر خوارق مونږ یوه مستقله رساله لیکلی ده هغه دی ولوسته شی په هر حال په دغه رکوع کښی دا قسم څو معجزی مذکوری دی چه په هغو کښی زائغین عجیب او غریب، چتی (بیکاره)، فضول او رکیک تحریفات کوی ځکه چه د دوی په اتکل سره د ځینو طیورو له خوا د انسانی ځینو علومو اداء کول پخپلو بولیو سره، او د میږی پخپلو منځونو کښی سره خبری اتری کول. او د حضرت سلیمان علیه السلام پوهیدل د دوی پر دغو خبرو ګرد (تول) لغو او داسی د حماقت خبری دی چه پری یو وړوکی هلک هم یقین نشی کولی لیکن زه وایم چه د ملیونو محقیقینو او د اسلافو او د اخلافو د ګردو (تولو) علماؤ په نسبت داسی خیال کول چه هغوی په داسی ناقصو لغو او بدیهی البطلان خبرو باندی چه یو هلک او ناپوه هم نشی منلی ولی له قدیم الایام څخه تر نن پوری بلاتردید او تکذیب ټینګ ولاړ دی او بیانوی ئی؟ او د دغو اوهامو تردید نه کوی؟ او د آیاتونو دغه صحیح حقیقت چه نن ورځ تاسو ته منکشف شوی دی د هغوی ځنی هیڅ یوه نه دی بیان کړی؟ دغه خیال له هغو خبرو څخه هم ډیر زیات لهو او مهمل او حماقت دی چه ته د هغه منل له خلقو څخه غواړی. د علماؤ څخه په هره زمانه کښی غلط فهمی خطأ او تقصیر کیدونکی وی مگر دغسی له سره نشی کیدی چه پر هغو محسوساتو او په مخ کښی پراته‌ؤ شیانو او حقائقو باندی چه د انسان هر هلک هم پری پوهیدی شی له سلهاؤ کلو راهسی خورا ډیر لوی پوهان عالمان او محققان هم ونه پوهیږی او د یوه تن عقل او فکر هغه طرف ته معطوف نه شی؟.
په یاد ئی ولرئ چه مونږ د اسرآئیلی خرافاتو تائید نه کوو هو! تر کومی اندازی پوری چه د اسلافو له اکابرو څخه بلا اختلاف د الله تعالیٰ د کلام مدلول بیان شوی دی هغه هرومرو (خامخا) تسلیم کوو اعم له دی چه هغه له اسرآئیلی روایاتو سره موافق وی که مخالف.

وَأُوتِينَا مِن كُلِّ شَيْءٍ

او راکړی شوی دی مونږ ته له هر څیز څخه (چه انبیاؤ او باچایانو ته ورکاوه شی).

**تفسیر** : یعنی د داسی عظیم الشان سلطنت او نبوت لپاره هغه اشیاء، لوازم او سامان چه په کار دی هغه ګرد (تول) ئی راعطاء کړه!.

إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ الْفَضْلُ الْمُبِينُ ﴿١٦﴾ وَحُشِرَ لِسُلَيْمَٰنَ جُنُودُهُۥ مِنَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ وَالطَّيْرِ فَهُمْ يُوزَعُونَ ﴿١٧﴾

بیشکه دغه (عطاء) خامخا هم دغه فضل فضیلت دی ښکاره. او جمع کړی شوی دپاره د سلیمان لښکری دی د ده له پیریانو او (له) انسانانو او (له) مرغانو بیا به د دوی ډلی ترلی کیدلی (په ترتیب سره).

**تفسیر :** هر کله به چه حضرت سلیمان علیه السلام کوم طرف ته تلو نو د انسانانو پیریانو او د طیورو د دری واړو اقسامو لښکر به ئی له خپله ځانه سره حسب الضرورت او مصلحت بوتلو. او د دوی په دغو افواجو کښی به یو ځان ته نظم نسق او انضباط قائم ؤ. مثلاً وروستنی افواج به سره له خپلو ګرندی تللو یا الوتلو خپلو له ړومبنیو افواجو څخه نشو وړاندی کیدی او نه به هیڅ یو لښکری فرد داسی کولی شو چه خپله پیره یا وظیفه په خپل سر خوشی کړی او چیری لاړ شی لکه چه نن ورځ په بری بحری او فضائی قواؤ کښی پوره نظم، نسق او د عمل اشتراک لیده کیږی.

حَتَّىٰٓ إِذَآ أَتَوْا عَلَىٰ وَادِ النَّمْلِ

تر هغه پوری کله چه راغلل دوی پر کنده د میږیو،.

**تفسیر :** یعنی حضرت سلیمان علیه السلام له خپل لاؤ لښکر سره له داسی یو میدان څخه تیریده چه هلته د میږیانو ډیره لویه ودانی وه.

**تنبیه :** په کوم ځای کښی چه ډیر میږیان سره راتول شی او هلته په خپل ذوق او سلیقه کورونه جوړ کړی هغه ته په عربی ژبه «قریة النمل» وائی «یعنی د میږیانو کلی» مفسرانو په مختلفو بلادو کښی د داسی میدانونو او بیدیاؤ نښه او پته لګولی ده چه هلته د میږیانو خورا (ډیر) زیات کورونه او کلی شته چه د دغو له منځه پر یوه باندی حسب الاتفاق د حضرت سلیمان علیه السلام ګزر شوی ؤ.

قَالَتْ نَمْلَةٌ يَٰٓأَيُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوا مَسَٰكِنَكُمْ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمَٰنُ وَجُنُودُهُۥ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿١٨﴾

نو وویل یوه میږی (چه مشر ؤ پر نورو) ای میږیو! ننوځئ تول مساکنو سوړو خپلو ته چه مات او چیت پیت مو نه کړی هرومرو (خامخا) تاسی لره سلیمان او لښکر د ده حال دا چه دوی به نه وی پوه (د تاسی له دی پائمالیدو نه)،

**تفسیر :** یعنی سلیمانی لښکر خو داسی نه دی چه عمداً او په قصد سره تاسی وژنی. هو امکان لری چه د لاعلمی او ناپوهی په سبب پائمال شئ! حضرت شاه صاحب لیکی: «د میږی غږ هیڅ یو انسان نشی اوریدی خو د سلیمان علیه السلام غوږ ته د دوی دغه خبری ورسیدی او دوی له هغو څخه معلومات حاصل کړل.» نو دا د هغوی معجزه شوه.
**تنبیه :** د حیواناتو علماؤ له کلونو کلونو راهسی کومی تجربی چه کړی دی له هغوی څخه دا راڅرګندیږی (راښکاره کیږی) چه دغه خوار او حقیر ساکښ (ذی روح) او خوځنده (حشره) هم پخپل اجتماعی حیات، سیاسی نظام کښی ډیر زیات له انسانی خویونو سره قریب واقع شوی دی او د دغو امورو اداره په ډیر عجیب او غریب ډول (طریقه) سره کوی. د انسانانو په شان میږیان هم د کورنیو او ټبرو او قبائلو خاوندان دی. په دوی کښی هم د تعاون او خواخوږی جذبات شته. د دوی د اعمالو تقسیم او د حکومت نظام د انسانی اداراتو سره ډیر قریب او متشابه لیدل کیږی، اروپائی محققان ډیر زیات وقت په هغو اطرافو او حوالیو کښی اوسیدلی دی چه هلته د میږیانو کورونه او کلی ډیر ؤ. او دوی د خپلو تتبعاتو ډیر زیات قیمتدار معلومات سره راټول کړی دی. افسوس چه په دغو مختصرو فوائدو کښی هغه نه ځائیږی. محض د دغه مقام له مناسبت سره د «دائرة المعارف المصرية» آخری جملی نقلوو: «فمتٰی داهم عدو قرية النمل اختفت العملة وخرجت الجنود للقتال والنضال فيخرج اولاً واحد منها للاستطلاع ثم يعود مخبراً بما رأى و بعد هنيهة تخرج ثلاثة او اربعة يتبعها عدد كثيف من الجيوش بادية عليهم علائم الحنق فتلدغ كل ما صادفته ولا تفلت من تلدغه ولو قطعت ارباً ارباً فاذا انتهى القتال رجع الفعلة فاعادوا بناء ما تهدم يتخللها عدد من الجنود للحراسة لا للعمل» په دغو جملو کښی دغه خبره راڅرګنده (راښکاره) شوه هم دا چه دوی د خطری له راتګه اطلاع مومی یو میږی د باندی وځی او لازمه معلومات ځان ته حاصلوی او بیا دغه معلومات ژر تر ژره خپل قوم ته وړی او هغوی ته له کوائفو څخه اطلاع ورکوی. باقی د سلیمان علیه السلام له احواله خبریدل او بیا د سلیمان له دغو خبرو څخه مطلع کیدل د خرق العادت په ډول (طریقه) ؤ.

فَتَبَسَّمَ ضَاحِكًا مِّن قَوْلِهَا وَقَالَ رَبِّ أَوْزِعْنِىٓ أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِىٓ أَنْعَمْتَ عَلَىَّ وَعَلَىٰ وَالِدَىَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَالِحًا

تَرْضٰىهُ وَأَدْخِلْنِي بِرَحْمَتِكَ فِي عِبَادِكَ الصّٰلِحِينَ ﴿١٩﴾

پس تبسم وکړ (سلیمان) په دغه حال کښې چه خندا کوونکې ؤ (وریپسی تعجباً او سروراً) له وینا د هغه میږی او وویل سلیمان ای ربه ځما الهام وکړه ماته (را په برخه کړه) دا چه شکر وکړم د نعمت ستا هغه چه انعام کړی دی تا پر ما او پر مور پلار ځما او بل دا چه کوم زه عمل نیک چه (په فضل خپل سره) خوښوی ته هغه او ننه باسه ما (او یو ځای کړه ما) په رحمت خپل سره په (هغو) بندګانو خپلو کښې چه صالحان دی.

**تفسیر :** کله چه سلیمان علیه السلام د هغی میږی پر خبره وپوهیده متعجب شو. او د سرور او نشاط له فرطه ئی د شکر د اداء کولو جذبه په جوش راغله. او وویل سلیمان ای ربه ځما الهام وکړه، را په برخه کړه دا چه شکر وکړم د نعمت ستا هغه چه انعام کړی دی تا پر ما او پر مور پلار ځما او بل دا چه کوم زه عمل نیک چه پخپل فضل سره خوښوی ته هغه او ننه باسه او یو ځای می کړه په رحمت خپل سره په هغو بندګانو خپلو کښې چه صالحان دی.
یعنی حیران یم ستا د دغو عظیمهؤ انعاماتو شکریه په کومه ژبه اداء کړم پس ستا له درباره التجاء کوم چه ماته داسی پوره توفیق راکړی چه په ژبه سره او په عمل سره ستا شکر اداء کړم او په اعلیٰ درجه نیکو بندګانو کښې می چه انبیاء او مرسلین دی محشور وفرمائی!.

وَتَفَقَّدَ الطَّيْرَ فَقَالَ مَا لِيَ لَا أَرَى الْهُدْهُدَ أَمْ كَانَ مِنَ الْغَائِبِينَ ﴿٢٠﴾

او لټونه ئی وکړه د مرغانو (او هدهد ئی ونه موندہ) نو وی ویل څه مانع دی ما لره چه نه وینم زه هدهد بلکه دی هدهد له غائب شویو (د دی تولی څخه چه ئی نه وینم).

**تفسیر :** بنا پر کوم ضرورت حضرت سلیمان علیه السلام د الوتونکیو افواجو حاضری واخیسته هدهد د ده په نظر کښې رانغی نو ځکه ئی وفرمایل دا څه خبره ده چه زه هدهد نه وینم؟ آیا د دغو الوتونکیو افواجو په منځ کښې پټ دی او زه ئی نه وینم؟ یا په واقع سره غیر حاضر دی.
**تنبیه :** له طیورو څخه حضرت سلیمان علیه السلام مختلف اعمال اخیستل، مثلاً په هوائی سفرونو کښې به دوی مامور ؤ چه د سلیمان علیه السلام پر سر داسی والوځی چه د دوی پر تخت سیوری ولویږی عند الضرورت د اوبو او د نورو ضروریاتو سراغ او پته ولګوی. خطوط او فرامین له یوه ځایه بل ځای ته ورسوی. په دغه وقت کښې امکان لری چه هدهد ته به کوم یو خاص ضرورت ورورلاندی شوی وی او دی به د هغه لامله (له وجی) غیر حاضر شوی وی. مشهور دی په کوم ځای

کښې چه تر ځمکې لاندې اوبه ډېر نژدې وي هدهد ته محسوس کيږي او دغه دومره مستبعد نه دی چه الله تعالیٰ د يوه ساکښ (ذی روح) کومه حاسه له انسانانو او له نورو ساکښانو (ذی روحو) څخه زياته تيزه او متحسسه وګرځوي د هدهد په نسبت خورا (ډېر) معتبر ثقات بيان فرمائی چه پر هر ځای کښې چه تر خاورو لاندې د خاورې چنجيان وي دی پرې متحسس کيږي او علی‌الفور ئې راوباسي تر دی چه کله کله تر دوو لويشتو پورې هم ځمکه کني. او هغه چينجي ترې راوباسي.

لَأُعَذِّبَنَّهُۥ عَذَابًا شَدِيدًا أَوْ لَأَاْذْبَحَنَّهُۥٓ أَوْ لَيَأْتِيَنِّى بِسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ﴿۲۱﴾

خامخا عذاب به ورکړم زه هرومرو (خامخا) ده ته عذاب سخت (مثلاً د هغه وزرونه او بڼکې به وشکوم) يا خامخا ذبح به کړم هرومرو (خامخا) زه دی يا به خامخا راوړي دی هرومرو (خامخا) ماته برهان دليل ښکاره (په غياب خپل چه له دی وجې نه غايب وم)

**تفسير :** يعنې خپل د غير حاضرئ کوم واضح او ښکاره دليل راوړاندې کړي.

فَمَكَثَ غَيْرَ بَعِيدٍ فَقَالَ أَحَطتُ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهِۦ وَجِئْتُكَ مِن سَبَإٍۭ بِنَبَإٍ يَقِينٍ ﴿۲۲﴾

پس ځنډ (ايسارتيا) وکړ هدهد نه ډېر (بلکه لږ ځنډ (ايسارتيا) ئې وکړ او ژر راغی) پس ووېل (هدهد په جواب د سليمان کښې) احاطه وکړه ما په هغه څيز (او پوره پرې خبر شوی يم) چه نه ده احاطه کړې تا (او نه ئې پرې خبر) په هغه باندې او راغلی يم زه تاته له سبا څخه په خبرې تحقيقي يقيني سره .

**تفسير :** حضرت سليمان عليه السلام ته د هغه ملک احوال په مفصل ډول (طريقه) سره نه ؤ رسيدلی. اوس وررسيد. «سبا» د يوه قوم نوم دی چه د هغوی ملک په عربستان کښې د يمن په اطرافو کښې ؤ (موضح القرآن) ګواکې د هدهد په وسيله الله تعالیٰ دغه تنبيه وفرمايله چه د ډېرو لويو لويو انسانانو علم هم له سره نشی محيط کيدی. وګورئ چه د هغه نبي په شان چه پخپله الله تعالیٰ داسې فرمايلی ؤ ﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا دَاوُۥدَ وَسُلَيْمَٰنَ عِلْمًا ﴾ هغه ته د يوې جزئي اطلاع هدهد وررسوی.

إِنِّي وَجَدتُّ امْرَأَةً تَمْلِكُهُمْ وَأُوتِيَتْ مِن كُلِّ شَيْءٍ

بیشکه چه ما وموندله يوه ښځه چه باچاهي ئی کوله پر دغه (اهل د سبا) او ورکړی شوی دی دغی (ښځی) ته له هر څیز څخه (چه باچایانو ته ورکولی شي).

**تفسير :** په هر شی کښی مال، اسباب، فوج، اسلحه، حسن، جمال گرد (تول) شیان راغلل.

وَلَهَا عَرْشٌ عَظِيمٌ ﴿٢٣﴾

او دی دی ته تخت ډیر لوی.

**تفسير :** یعنی د دی ملک د ملکی تخت داسی مکلف، مرصع او ډیر قیمتدار دی چه د دنیا هیڅ یوه له باچاهانو سره هغسی تخت نشته، مفسرینو د دغی ملکی نوم «بلقیس» لیکلی دی والله اعلم.

وَجَدتُّهَا وَقَوْمَهَا يَسْجُدُونَ لِلشَّمْسِ مِن دُونِ اللَّهِ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيلِ فَهُمْ لَا يَهْتَدُونَ ﴿٢٤﴾

ومی موندله دغه ښځه او قوم د دی چه سجده کوی دوی لمر ته بی له الله او ښایسته کړی دی دوی ته شیطان عملونه د دوی پس منع کړی دی (شیطان) دوی له سمی صافی لیاری پس دوی نه مومی سمه صافه لیاره.

**تفسير :** یعنی هغه قوم مشرکان او د لمر عابدان دی. او شیطان دوی له لیاری څخه ایستلی دی او د شرک رسوم او اطوار د دوی په نظرونو کښی ښایسته ورځرگند (ورښکاره) شوی دی نو ځکه دوی د هدایت لیاره نشی موندلی. هدهد پخپلی دغه وینا سره گواکی سلیمان علیه السلام ته ترغیب ورکړ چه د دغه قوم پر خلاف جهاد وکړی.
(منع کړی دی شیطان دوی د سمی لیاری څخه په دی شان:)

أَلَّا يَسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي يُخْرِجُ الْخَبْءَ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا تُخْفُونَ وَمَا تُعْلِنُونَ ﴿٢٥﴾

چه دوی نه کوی سجده الله ته هغه (الله) چه راوباسی (ښکاره کوی) پټ څیزونه چه په آسمانونو کښې دی او په ځمکه کښې دی او (هغه الله) چه ورمعلوم دی هر هغه څیز هم چه پټوئ ئی تاسی (په زړونو خپلو کښې) او هر هغه څیز چه ښکاروئ ئی تاسی (په ژبو خپلو کښې).

**تفسیر :** غالباً د دغه هدهد د کلام تتمه ده. معلومیږی چه حیوانات فطرتاً د خپل خالق د صحیح معرفت لرونکی دی. یا د خرق عادت په ډول (طریقه) هم دغه یوه هدهد ته دغسی تفضیلی معرفت ورعطاء کړی شوی ؤ. هو! که الله تعالیٰ اراده وفرمائی نو دغسی معرفت په یوه وچ لرګی کښې هم پیدا کولی شی. باقی په حیواناتو کښې په فطری ډول (طریقه) سره د داسی عقل او معرفت وجود چه هغه «صدر شیرازی» په «اسفار اربعه» کښې په «حضوری علم» یا «شعور بسیط» سره تعبیر کړی دی د دی خبری مستلزم نه دی چه د هغو په طرف هم انبیاء مبعوث شی. ځکه چه دغه فطری معرفت کسبی نه دی جبلی دی. او د انبیاؤ بعثت له کسبیاتو سره تعلق لری. دغه هم صحیح نه دی چه په هر هغه شی کښې چه په کومه اندازه عقل او شعور وی نو هغه دی مکلف هم وی مثلاً حق شریعت صبیان او کوچنیان (واړه) نه دی مکلف کړی حال دا چه قبل البلوغ په صبیانو کښې په کافی اندازه عقل او تمییز موجود وی نو پر دغه د حیواناتو د عاقلیت اندازه هم وکړئ!.

**تنبیه :** په «موضح القرآن» کښې راغلی دی: «د هدهد روزی دا ده چه له شګو څخه چنجیان راوباسی او خوری ئی نه دانه خوری او نه میوه. دی د الله تعالیٰ د دغه قدرت سره کار لری» ښائی د هم دی لامله (له وجی) د «یخرج الخبء» ذکر ئی په خاص ډول (طریقه) سره کړی دی. والله اعلم.

اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ ﴿٢٦﴾ السجدة

الله چه دی نشته هیڅ لائق د عبادت مګر یواځی هم دی دی رب د عرش ډیر لوی.

**تفسیر :** یعنی د ده د عظیم عرش سره د بلقیس تخت څه مناسبت لری؟.

قَالَ سَنَنْظُرُ أَصَدَقْتَ أَمْ كُنْتَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿۲۷﴾

نو وویل (سلیمان) ژر به وګورو آیا رښتیا ویلی ده تا (ای هدهده!) دغه خبره یا که ئی ته له دروغ ویونکیو.

**تفسیر :** یعنی زه ستا د دروغو امتحان آخلم. (بیا سلیمان یو مکتوب ولیکه او هدهد ته ئی وویل:).

اِذْهَبْ بِّكِتٰبِيْ هٰذَا فَاَلْقِهْ اِلَيْهِمْ ثُمَّ تَوَلَّ عَنْهُمْ فَانْظُرْ مَاذَا يَرْجِعُوْنَ ﴿۲۸﴾

یوسه ته (ای هدهده!) لیک ځما دغه پس وغورځوه هغه (لیک) دوی ته بیا مخ جار باسه له دوی (او پټ نژدی ورته ودریږه) پس وګوره (له ورا) چه په څه جواب رجوع کوی دوی.

**تفسیر :** یعنی سلیمان علیه السلام یو خط ولیکه او هدهد ته ئی ورکړ چه د «سبا» ملکی ته ئی ورسوی او جواب ئی بیرته راوړی او ورته وئی ویل څه وقت چه خط دی وروړسوه ښائی چه بیا ته تری یوی خوا ته پر څنګ شی ځکه چه د قاصد مخامخ دریدل د سلطنت له آدابه سره څه تناسب نه لری. موضح القرآن لیکی: «یعنی ته دی ځان یوی خوا ته پټ کړه. لیکن د دی د دربار د ګردو (تولو) ماجری څخه ځان باخبره کړه. هدهد هغه خط او د هغی خونی (کور) له کړکی څخه ننوت چه هلته بلقیس ګوښی (یوازی) اوده وه او خط ئی د دی پر تتر(سینه) کیښود.».

قَالَتْ يٰٓاَيُّهَا الْمَلَؤُا اِنِّيْٓ اُلْقِيَ اِلَيَّ كِتٰبٌ كَرِيْمٌ ﴿۲۹﴾ اِنَّهٗ مِنْ سُلَيْمٰنَ

وویل (بلقیس) چه ای اشرافو بیشکه زه چه یم راغورځولی شوی دی ماته یو لیک عزتناک. بیشکه دغه (لیک) د سلیمان (له طرفه راغلی) دی.

**تفسیر :** بلقیس د دغه خط د لوستلو په اثر خپل مشران او درباریان راټول کړل. او دوی ته ئی وویل چه «ای ځما مشرانو! ماته داسی یو عجیب خط په دغه عجیبه طریقه سره رارسیدلی دی چه د یوه معزز او محترم باچا سلیمان علیه السلام له طرفه راغلی دی. غالباً دوی به د حضرت سلیمان علیه السلام اسم او د ده د بی مثاله حکومت او شوکت اشتهار پخوا له دی نه اوریدلی وی.

وَإِنَّهُ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴿٣٠﴾

او بیشکه (مضمون د دی لیک دا دی چه شروع) په نامه د الله چه خورا (ډیر) مهربان ډیر رحم والا دی.

**تفسیر :** هم هغسی چه دلته دغه «تسمیه» د دغه قرآنی آیت جزء دی. د قرآن کریم په نورو ځایونو کښې هم ځان ته یو مستقل قرآنی آیت دی. د تسمیې لوستل په اول د هر سورت کښې یو ضروری امر دی او دومره ثواب لری لکه چه د پاک قرآن یو سل او څوارلس نور آیتونه ولوستل شي. څمونږ د حنفیانو په مذهب لکه چه پاس مو ولیکل تسمیه شریفه د عظیم الشان قرآن یو ځان ته مستقل او جلا (جدا) مبارک آیت دی چه لپاره د تبرک او فصل د قرآنی سورتونو د هر سورت په اول کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په امر لیکلی شوی دی. د امام شافعی او امام احمد حنبل رحمهما الله په مذهب برسیره په دی چه تسمیه شریفه د فاتحی شریفی د سورت اوله برخه• او جزء دی په نورو قرآنی سورتونو کښې هم پرته (علاوه) د توبی له سورته داخله ده.

أَلَّا تَعْلُوا عَلَيَّ وَأْتُونِي مُسْلِمِينَ ﴿٣١﴾

(مقصد ځما دا دی) چه لوئی (او کبر) مه کوئ تاسی پر ما او راځئ تاسی ماته مسلمانان غاړه ایښودونکی (الله ته).

**تفسیر :** داسی جامع مختصر او له عظمته ډک خط به ممکن دی چه ډیر لږو باچاهانو په دنیا کښې بل کوم باچا ته لیکلی وی. مطلب ئی دا دی چه: «ځما په مقابل کښې زور آزمویل هیڅ فائده نه دررسوی. ستاسی خیر په هم دی کښې دی چه اسلام ومنئ! او ځما احکامو ته غاړه کیږدئ! او د انسانانو په شان په سمو ګوتو ماته راشئ! ځکه چه ستاسی لوئی، تکبر، او ځان مشر ګڼل ځما په مقابل کښې بی فائدی دی.»

قَالَتْ يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ أَفْتُونِي فِي أَمْرِي مَا كُنتُ قَاطِعَةً أَمْرًا حَتَّىٰ تَشْهَدُونِ ﴿٣٢﴾

وویل (بلقیس) چه ای اشرافو! فتویٰ (مشوره) راکړئ تاسی ماته په دغه کار ځما کښې، نه یم زه فیصله کوونکی د کوم کار تر هغه پوری چه حاضر شئ تاسی ماته (مشوره راکړئ!).

**تفسير :** يعني تاسی مشوره راکړئ! چه د هغه جواب په څه مضمون سره وليکل شي او بالمقابل ئی څه اقدامات او چاری وکړی شي؟ لکه چه تاسی ته معلوم دی د کومی لوئی معاملی (قطعی) فیصله بی د تاسی له پوښتنی او مشوری څخه نه کوم.

قَالُوا نَحْنُ أُولُوا قُوَّةٍ وَأُولُوا بَأْسٍ شَدِيدٍ
وَالْأَمْرُ إِلَيْكِ فَانظُرِي مَاذَا تَأْمُرِينَ ﴿٣٣﴾

وویل دغو (اشرافو) چه مونږ خاوندان د قوت زور یو او خاوندان د جنګ سخت یو او امر (حکم، اختیار) تاته دی پس وګوره (ای ملکی!) چه د څه شي امر (حکم) کوی ته (پر مونږ باندی چه وئی منو!).

**تفسير :** يعني له مونږه سره د زور او طاقت او د حربی لوازمو او سامانونو هیڅ تقلیل او کمی نشته. او نه د کوم باچا له ویرولو څخه مونږ داریږو. که ستا حکم صادر شي نو مونږ له سلیمان علیه السلام سره جنګ ته تیار یو. برسیره په دی ته خپلواکه او خپله مختاره ئی! سره له غوره پوهه او چرته (خیاله) مونږ ته هر هغه حکم چه مناسب ئی ګڼی را ئی کړه! ځکه چه ځمونږ غاړی ستاسی د هر حکم په مقابل کښی ښکته دی. معلومیږی چه د درباریانو فکر او رأیه د جنګ کولو په لوری وه. مګر ملکی په جنګ کولو کښی تعجیل مناسب ونه ګاڼه او یو بین البین داسی معتدل صورت ئی غوره کړ چه د هغه ذکر اوس راځی:

قَالَتْ إِنَّ الْمُلُوكَ إِذَا دَخَلُوا قَرْيَةً أَفْسَدُوهَا وَجَعَلُوا أَعِزَّةَ أَهْلِهَا أَذِلَّةً ۖ
وَكَذَٰلِكَ يَفْعَلُونَ ﴿٣٤﴾ وَإِنِّي مُرْسِلَةٌ إِلَيْهِم بِهَدِيَّةٍ فَنَاظِرَةٌ بِمَ يَرْجِعُ الْمُرْسَلُونَ ﴿٣٥﴾

نو وویل (بلقیس چه په جنګ کښی خیر نشته) بیشکه باچاهان هر کله چه ننوځی په کوم کلی (ښار) کښی (په غلبه او قهر) خرابوی دوی هغه (ښار) او ګرځوی دغه (باچاهان) عزیزان (مشران) د اهل د هغه ذلیلان (سپک بندیان)، او هم داسی (چه ومی ویل) دوی کوی. او بیشکه زه لیږونکی یم دوی ته (قاصد) سره له هدیی (پیشکشی) پس بیا زه کتونکی یم چه په څه حال بیرته راځی دغه لیګلی شوی (چه قبلوی دغه پیشکشی یا ئی بیرته رالیږی).

**تفسیر :** معلومیږي چه د خط د مضمون له عظمته او شوکته او له نورو قرائنو، اماراتو او آثارو څخه بلقیس متیقنه شوي وه چه زه پر دغه باچا بري نشم مونډلی او اقلا د دغی خبري قوي احتمال د دي په زړه کښې پیدا شوی ؤ چه د داسي لویو شان او شوکت لرونکیو باچاهانو سره جنګیدل د لویو او توکو خبره نه ده که دی غالب شو لکه چه د ده د بري قوي امکان شته نو د نورو ملوکو او سلاطینو له عمومي عادته سره موافق به دغه ځما ګرد (تول) ښارونه سره لاندی باندی کړي او داسي یو لوی انقلاب به ونبتلي چه په هغه کښې به مشران کشران، عزت لرونکي خلق به بي عزته کیږي. او ډیر انسانان به خواران او ذلیلان کیږي. لهٰذا ځما په فکر خو ښه داسي راښکاري چه مونږ به جنګیدلو کښې جلتي او تلوار ونه کړو. بلکه لازم دي چه د مقابل جانب قوت، قدرت، طبیعي رجحانات، د حکومت نوعیت څخه معلومات حاصل کړو او په دی باندي ښه ځان خبر کړو چه دوی د دغو ویرولو تر شا څه ډول (طریقه) زور او قوت لري؟ او بل دغه ځان ته معلوم کړو چه هغوی په رښتیا سره څه شي له مونږ څخه غواړي؟ که مونږ څه تحائف او هدایات ورولیږو او دغه راتلونکي مصیبت د هغو په وسیله له خپله ځانه لري وساتو نو ډیر به ښه شي که نه په دغه ذریعه مونږ ته لږ څه د دوی وضیعت او رویه راڅرګندیږي (ښکاره کیږي) خو بیا مونږ له هغه سره مناسب رویه او لیاره ځان ته غوره کړو. «موضح القرآن» لیکي: «بلقیس وغوښتله چه د دغه باچا شوق او میلان ځان ته معلوم کړي چه د کوم څیز له پلوه (طرفه) ډیر زیات دي د ښکلو انسانانو له پلوه (طرفه) که د نادرو سامانونو او لوازمو له پلوه (طرفه) نو دغسي له هري نوعي تحائف او هدایا ئې ولیږل.

فَلَمَّا جَآءَ سُلَيۡمَٰنَ قَالَ أَتُمِدُّونَنِ بِمَالٖ فَمَآ ءَاتَىٰنِۦَ ٱللَّهُ خَيۡرٞ مِّمَّآ ءَاتَىٰكُمۚ بَلۡ أَنتُم بِهَدِيَّتِكُمۡ
تَفۡرَحُونَ ٣٦ ٱرۡجِعۡ إِلَيۡهِمۡ فَلَنَأۡتِيَنَّهُم بِجُنُودٖ لَّا قِبَلَ لَهُم بِهَا وَلَنُخۡرِجَنَّهُم مِّنۡهَآ
أَذِلَّةٗ وَهُمۡ صَٰغِرُونَ ٣٧

پس کله چه راغی (قاصد د بلقیس) سلیمان ته نو وویل (سلیمان آیا مدد ګاري کوئ تاسي له ما سره په مال سره پس هغه څیز چه راکړی دی ماته الله (له نبوت، علم، سلطنت) خیر ډیر غوره دی له هغه څیزه چه درکړی دی (الله) تاسي ته بلکه تاسي په دغه هدیه (پیشکشي) خپلي خوشالیږئ بیرته ورشه دوی ته (ای قاصده چه راشي ماته! که نه) پس خامخا وربه شو مونږ دوی ته سره له (داسي زوررور) لښکر چه نه وي هیڅ طاقت د مقابلي دوی ته له هغو لښکرو سره او خامخا وبه باسو هرومرو (خامخا) دوی له دغه (ښار د سبا څخه) په دي حال کښې چه بي عزته بي حرمته وي او دوی به خوار او

سپک وی..

**تفسیر :** یعنی دغه تحفی او هدایا دی تاسو ته درمبارک وی چه په ورکولو ئی تفاخر کوئ! او په اخیستو ئی په تکثر د اموالو سره خوشالیږئ! آیا ستاسی په فکر او اټکل کښی زه تش یو دنیوی باچا درغلم؟ چه د مال او متاع مطامع ماته راوړاندی کوئ؟ تاسی ته دی معلوم وی هغه روحانی دولت او مال، حکومت او دولت چه الله تعالیٰ راعطاء کړی دی هغه ستاسی له دغه ملک او دولت څخه ډیر اعلیٰ او اولیٰ دی. زه ستاسو دغو هدایا او تحائفو ته هیڅ اهمیت نه ورکوم یعنی بیرته ورشه ای قاصده! بلقیس او قوم ته ئی ووایه چه را دی شی تول مسلمانان غاړی ایښودونکی او که رانغلل دوی پس رابه ولو موږ خامخا د دوی جنګ او مقابلی ته داسی لښکری چه له جهته د دیروالی او قوت نه دی هیڅ طاقت د مقاومت (ودریدو) د دوی له هغو لښکرو سره او هرومرو (خامخا) وبه باسو او وبه شړو موږ خامخا دوی له دغه ښار د سبا څخه په دی حال کښی چه بی عزته او بی حرمته به وی او حال دا چه دوی به خوار زهیر او بندیان وی او له وطنه به فراریږی او په ذلت او خواری سره به له دولته او سلطنته لاس واخلی. موضح القرآن لیکی: «هیڅ یو بل نبی داسی خبری نه دی فرمایلی کله چه د حضرت سلیمان علیه السلام سره د الله تعالیٰ د سلطنت زور ؤ نو ځکه ئی دغسی وفرمایل».

قَالَ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمَلَؤُاْ أَيُّكُمۡ يَأۡتِينِي بِعَرۡشِهَا قَبۡلَ أَن يَأۡتُونِي مُسۡلِمِينَ ﴿٣٨﴾

وویل (سلیمان) ای (ځما د دربار) اشرافو! کوم یو له تاسی به راوړی ماته تخت د دی (بلقیسی) پخوا له هغه چه راځی دوی ماته مسلمانان (غاړه ایښودونکی الله ته).

**تفسیر :** دغه سفیر بیرته لاړ او د جنګ پیغام ئی وړورسوه بلقیس متیقنه شوه چه دغه کوم معمولی باچا نه دی د ده زور او قوت د الله تعالیٰ په زور او قوت سره دی له جدال څخه به هیڅ یوه ګټه او فائده په لاس رانه شی او نه د داسی باچا په مقابل کښی له چل، فریب څخه څه کار اخیستل کیږی. بالآخر د اطاعت او انقیاد په غرض د ډیرو ساز او سامان او لوی لښکر سره د حضرت سلیمان علیه السلام په حضور د تشرف په مقصد رهی (روانه) شوه کله چه بلقیس د شام سرحداتو ته ورنژدی شوه حضرت سلیمان علیه السلام خپلو درباریانو ته وفرمایل چه آیا داسی یو سړی شته چه د بلقیس شاهی تخت د دی د راتللو څخه د مخه راحاضر کړی. په دغه کښی هم د حضرت سلیمان علیه السلام مقصد دا ؤ چه په بلقیس باندی په ښو دول (طریقه) سره د الله تعالیٰ د ورعطاء کړی عظمت او قوت اظهار وکړی ښو دا ښه وپوهیږی چه سلیمان علیه السلام یواځی باچا نه دی بلکه کوم فوق العاده باطنی طاقت هم له خپله ځانه سره لری.

**تنبیه :** له «قبل ان یأتونی مسلمین» څخه معلوم شو چه پخوا له اسلامه او انقیاده د حربی مال مباح دی.

قَالَ عِفْرِيتٌ مِّنَ الْجِنِّ أَنَا آتِيكَ بِهِ قَبْلَ أَن تَقُومَ مِن مَّقَامِكَ وَإِنِّي عَلَيْهِ لَقَوِيٌّ أَمِينٌ ﴿٣٩﴾

وویل یو زورور سخت قوی له (قومه د) پیریانو چه زه به راوړم تاته دا (تخت) پخوا د هغه چه پاځیږی ته (ای نبی الله) له دغه ځایه خپله، او بیشکه زه پر دغه (راوړلو) د دی (تخت) خامخا قوی (زورور معتبر) امانتگر یم.(چه نه کوم خیانت په جواهرو د ده کښی)

**تفسیر :** د حضرت سلیمان علیه السلام دربار به هره ورځ تر یو تاکلی (مقرر کړی) وقت پوری دوام درلود (لرلو). مطلب ئی دا دی چه «پخوا له دی نه چه تاسی له خپله درباره پاځیږئ زه به دغه شاهی تخت درحاضر کړی شم» مگر په دغه کښی هم لږ څه ځند (ایسارتیا) واقع کیده او حضرت سلیمان علیه السلام غوښته چه له دی نه مخ کښی د دی تخت راحاضر کړی شی.
«زورور امانتگر یم» یعنی د خپل مټ او قوت سره ئی ډیر ژر راپورته او در حاضرولی شم الله تعالیٰ ماته داسی قوت او قدرت رابښلی دی او «معتبر یم» یعنی په دغه کښی به زه څه خیانت نه کوم وائی چه دغه تخت ډیر قیمتدار ؤ. او په سرو او سپینو زرو او لعلو او جواهراتو سره مزین او مرصع ؤ.

قَالَ الَّذِي عِندَهُ عِلْمٌ مِّنَ الْكِتَابِ أَنَا آتِيكَ بِهِ قَبْلَ أَن يَرْتَدَّ إِلَيْكَ طَرْفُكَ ۚ

وویل هغه (سړی) چه د ده څخه یو علم ؤ له کتابه (منزله یعنی اسم الاعظم) زه به راوړم تاته دا (تخت) پخوا له هغه چه بیا راگرځی تاته سترگه ستا، (چه نیولی دی وی کوم شی ته).

**تفسیر :** راجح خو هم دغه معلومیږی چه دغه سړی د حضرت سلیمان علیه السلام صحابی او وزیر آصف بن برخیا رضی الله تعالیٰ عنه دی چه د سماویه ؤ کتابونو عالم او د الله تعالیٰ د اسماؤ او د کلامونو له تأثیراتو څخه واقف ؤ ده عرض وکړ چه زه د سترگی په یوه رپه کښی د هغی تخت درحاضرولی شم. یعنی هم دا چه تاسی چاته وگورئ پخوا له هغه چه تاسی خپلی سترگی له هغه څخه ځان ته واړوئ زه به هغه تخت دلته پخوا له طرفة العین څخه درحاضر کړم.

فَلَمَّا رَاٰهُ مُسْتَقِرًّا عِنْدَهٗ قَالَ هٰذَا مِنْ فَضْلِ رَبِّيْ ۖ لِيَبْلُوَنِيْٓ ءَاَشْكُرُ

نو کله چه ولید (سلیمان) دغه (تخت) قرار پروت په نزد د ده نو وی ویل دغه (ژر راوړل د تخت) له فضله (احسانه) د رب ځما دی دپاره د دی چه وازمویی ما چه آیا زه شکر کوم (پر نعمتونو د الله).

**تفسیر** : یعنی دغه په ظاهری اسبابو سره نه دی د الله تعالیٰ فضل دی چه ځما رفیق دغه درجی ته رسیدلی دی چه تری داسی کرامات ظاهریږی او کله چه د ولي او بالخاصه د صحابي کرامت د هم هغه نبي معجزه او د ده د اتباع ثمره وی نو ځکه پر حضرت سلیمان علیه السلام هم د هغه شکران عائد کیږی.

**تنبیه** : معلوم شو چه اعجاز او کرامت فیالحقیقت د قدیر الله تعالیٰ هغه افعال دی چه د اولیاؤ او انبیاؤ پر لاسونو په خلاف معمول او فوق العادة صورتونو سره ظاهرول شي پس د هغه لوی ذات په قدرت سره چه لمر په یوه لمحه کښي په زرهاؤ میل مسافه پری کوی آیا هغه ته دا څه مشکل دی چه د بلقیس تخت د سترگی په یوه رپه کښي له «مارب» څخه «شام» ته ورسوی حال دا چه د بلقیس تخت د لمر یا د ځمکی په نسبت، د یوی ذری او یو لوی غره له نسبت څخه هم لږ دی حضرت سلیمان علیه السلام به په هر قدم د الله تعالیٰ د نعماؤ تشکرات اداء کول او هغه به ئی پیژندل او تل به د شکر ایستلو دپاره حاضر او ناظر ؤ گواکی د «اعملوا آل داود شکراً» په تعمیل کښي به تل مشغول او لگیا ؤ.

اَمْ اَكْفُرُ ۖ وَمَنْ شَكَرَ فَاِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ رَبِّيْ غَنِيٌّ كَرِيْمٌ ﴿۴۰﴾

یا ناشکری (کفران) کوم؟، او هر څوک چه شکر کوی پس بیشکه هم دا خبره ده چه شکر کوی خپل ځان ته (ځکه چه پری د نعمتونو دوام او تزئید کیږی) او هر چا چه ناشکری وکړه ( کفران کوی) غني بی پروا دی (له شکر او له هر څیزه) کرم والا (څیښتن (خاوند) د سخاوت دی پر مستحقانو د انعام).

**تفسیر** : یعنی د شکر ایستلو نفع شاکر ته رسیږی چه په دنیا او آخرت کښي به مزید انعامات پری مبذول کیږی. که ناشکری وکری نو الله تعالیٰ ته به څه ضرر او نقصان ونه رسوی. ځکه چه الله تعالیٰ د داسی شکر ایستلو څخه قطعاً بی پرواء او بالذات کامل الصفات او منبع الکمالات دی. ځمونږ له کفرانه د ده په کمالیه ؤ صفاتو کښي هیڅ نقص او کمی نه راځی. دغه هم د الله

تعالىٰ لطف او کرم دی چه ناشکرانو ته سم د لاسه سزا نه ورکوی نو د داسی کریم ناشکری کوونکی سړی په انتهائی درجه بی حیا او احمق دی.

قَالَ نَكِّرُوا لَهَا عَرْشَهَا نَنظُرْ أَتَهْتَدِي أَمْ تَكُونُ مِنَ الَّذِينَ لَا يَهْتَدُونَ ﴿٤١﴾

وویل (سلیمان) چه نا آشنا (او په بل شان او شکل کړئ) تاسی دغی (بلقیس) ته تخت د دی چه وګورو چه آیا پیژنی ئی یا کیږی له هغو کسانو چه نه ئی پیژنی.

**تفسیر** : یعنی د تخت رنګ او وضعیت ئی تبدیل کړ. او د هغه شکل او هیئت ئی وګرځاوه چه د هغه په لیدلو بلقیس په آسانی سره ونشی پوهیدی. په دی د بلقیس د عقل او فهم ازمویښت او امتحان مقصود ؤ چه د هدایت استعداد په دی کښی تر کوم ځای پوری شته.

فَلَمَّا جَاءَتْ قِيلَ أَهَٰكَذَا عَرْشُكِ ۖ قَالَتْ كَأَنَّهُ هُوَ ۚ

نو کله چه راغله (بلقیس او خپل تخت ئی هلته ولید) وویل شو (ورته) آیا هم داسی دی تخت ستا نو وویل (بلقیس) لکه چه دا هم هغه دی،

**تفسیر** : وئی نه ویل چه هو! هم هغه دی او نه ئی بالکل نفی وکړه څه ئی چه حقیقت ؤ هغه ئی صاف صاف ظاهر کړ چه تخت خو هم هغه دی لیکن په اوصاف کښی ئی څه فرق او توپیر (تفاوت) راغلی دی او کله چه دغه فرق دومره مهم او معتدبه نه دی، نو ځکه ویلی شی لکه چه هم هغه دی.

وَأُوتِينَا الْعِلْمَ مِن قَبْلِهَا وَكُنَّا مُسْلِمِينَ ﴿٤٢﴾

او راکړی شوی ؤ مونږ ته علم (په وحدت د رحمٰن او نبوت د سلیمان) پخوا له دی (معجزی کله چه هدهد ستا لیک راوړ) او وو مونږ مسلمانان (غاړه ایښودونکی حکم ستا ته).

**تفسیر** : یعنی د دی معجزی ښکارولو ته څه ضرورت نه ؤ. مونږ ته لا له پخوا څخه دغه خبره معلومه وه چه سلیمان علیه السلام تش یو باچا نه دی. بلکه د الله تعالیٰ یو مقرب بنده هم ورسره دی. نو ځکه مونږ د اطاعت او تسلیم او انقیاد لیاره اختیار کړه.

وَصَدَّهَا مَا كَانَتْ تَّعْبُدُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ اِنَّهَا كَانَتْ مِنْ قَوْمٍ كٰفِرِيْنَ ﴿٤٣﴾

او منع کړه (الله په توفیق خپل) دا له (عبادت د) هغه څیز چه وه دا چه عبادت ئی کاوه غیر له الله بیشکه چه دا وه (پخوا) له (هغه) قومه چه کافران وو.

**تفسیر** : یعنی الله تعالیٰ یا سلیمان علیه السلام د الله تعالیٰ په حکم ملکه بلقیس د لمر او نورو شیانو له عبادت څخه ستنه (منع) کړه چه په هغه کښی دا سره د خپل قوم مبتلاء وه یا ئی دا مطلب چه د سلیمان علیه السلام په خدمت کښی د حاضریدلو تر وقته پوری چه د اسلام اظهار ئی په علانیه ډول (طریقه) سره نه ؤ کړی د هغه سبب دا ؤ چه د باطلو معبودانو خیال او د کفارو صحبت او تقلید دا ئی له داسی کولو څخه منع کړی وه کله چه د نبی الله په ملاقات او زیارت مشرفه شوه هغه ممانعت له منځه ورک شو. که نه د سلیمان علیه السلام د صداقت اجمالی علم دی ته لا له پخوا څخه حاصل ؤ.

قِيْلَ لَهَا ادْخُلِى الصَّرْحَ ۚ فَلَمَّا رَاَتْهُ حَسِبَتْهُ لُجَّةً وَّكَشَفَتْ عَنْ سَاقَيْهَا ؕ
قَالَ اِنَّهٗ صَرْحٌ مُّمَرَّدٌ مِّنْ قَوَارِيْرَ ؕ قَالَتْ رَبِّ اِنِّىْ ظَلَمْتُ نَفْسِىْ
وَاَسْلَمْتُ مَعَ سُلَيْمٰنَ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٤٤﴾

وویلی شو دغی (بلقیس) ته چه ننوځه دی بنګلی ته پس کله چه ولیده (بلقیس) دا (ښیښه) نو ګمان ئی پری وکړ د ژورو اوبو او پورته ئی کړه (پاینڅه) له دواړو پنډیو خپلو، نو وویل (سلیمان) بیشکه دغه (اوبه نه دی) یوه بنګله ده په ځمکه هواره ښویه (جوړه شوی) له ښیښو نه وویل (بلقیس) ای ربه ځما بیشکه ما ظلم کړی دی پر ځان خپل او اسلام می راوړی دی سره له سلیمانه خاص (هغه) الله ته چه رب (پالونکی) د عالمیانو دی.

**تفسیر** : یعنی له اوبو څخه د پوری وتلو په نیت ئی خپلی پاینڅی پورته کړی لکه چه عمومی

قاعده ده چه که د اوبو د ژوروالی اندازه په پوره ډول (طریقه) معلومه نه وی نو له اوبو څخه پوری وتونکی ړومبی د خپلو پاینڅو په پورته کولو شروع کوی.

حضرت سلیمان علیه السلام پخپله سلام خانه کښې ناست ؤ چه هغه د تیرو (گټو) په ځای په ښیښو فرش شوی وه دغه صافی او پاکی ښیښې له لری داسی ښکاریدی لکه چه د اوبو لوی حوض وی او ممکن دی چه له دغو ښیښو لاندی به واقعی اوبه هم وی یعنی حوض ئی په ښیښو سره پټ کړی وی. دی په اوبو کښې د کډیدلو دپاره خپلی پښې لوڅی (بربندی) کړی، سلیمان علیه السلام پری غږ وکړ چه دغه د ښیښې فرش دی اوبه نه دی. بلقیس ته خپل د عقل قصور او د ده د عقل کمال ورمعلوم شو او په دغه باندی ښه وپوهیده چه په دیانت هم پر هغو اسرارو چه دی پوهیږی هم هغه صحیح دی. او دغه هم ورښکاره شوه چه پر هغو سازونو او سامانونو او وسائلو چه دغه قوم مغرور ؤ او پری نازیدل، دلته له هغه څخه ډیر سامانونه موجود وو. گواکی سلیمان علیه السلام دوی ته تنبیه ورکړه چه د لمر او د ستوریو پر ځلیدلو غولیدل او هغوی ته د خدائی نسبت ورکول هم داسی دی لکه چه انسان د ښیښې په ځلیدلو وغولیږی او د اوبو گمان پری وکړی.

کله چه ملکه بلقیس پر خپل قصور وپوهیده نو وی ویل ای ربه ځما بیشکه ما ظلم کړی دی پر خپل ځان او اسلام می راوړی دی سره له سلیمانه خاص هغه الله ته چه رب د عالمیانو دی. یعنی یا الله! زه ستا منونکی یم! او د سلیمان علیه السلام دین او طریقه اختیاروم! تر اوسه پوری می پر خپل ځان باندی ډیر ظلم کړی دی چه په شرک او کفر کښې مبتلاء وم! اوس له هغه څخه توبه کوم او ستا د ربوبیت د دربار په طرف رجوع کوم.!

---

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَآ إِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَٰلِحًا أَنِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ فَإِذَا هُمْ فَرِيقَانِ يَخْتَصِمُونَ ﴿٤٥﴾

---

او خامخا په تحقیق لیږلی ؤ مونږ ثمودیانو ته (قومی) ورور د دوی صالح (چه ووایه ثمودیانو ته) داسی چه عبادت کوئ تاسی خاص د الله پس ناڅاپه دوی دوه فرقی وی (مؤمن او کافر) چه سره ئی جګړی کولی.

---

**تفسیر :** یعنی یو ایمان لرونکی او یو منکر. لکه مکی والو چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د راتګ په وقت کښې په خپلو منځونو کښې جګړی سره کولی. د ثمودیانو د جګړی لږ شه تفصیل د «الاعراف» په (۱۰) رکوع کښې پر دغو آیتونو «قال الملأ الذین استکبروا من قومه للذین استضعفوا لمن آمن منهم. الایه» کښې تیر شوی دی.

قَالَ يٰقَوۡمِ لِمَ تَسۡتَعۡجِلُوۡنَ بِالسَّيِّئَةِ قَبۡلَ الۡحَسَنَةِ ۚ لَوۡلَا تَسۡتَغۡفِرُوۡنَ اللّٰهَ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُوۡنَ ﴿۴۶﴾

وویل (صالح) ای قومه ځما ولې جلتي کوئ تاسي په بدۍ (نزول د عذاب) پخوا له نیکۍ (توبې) ولې مغفرت نه غواړئ تاسي له الله (په ایمان او توبه) دپاره د دې چه پر تاسي رحم وکړ شي.

**تفسیر :** حضرت صالح علیه السلام دوی ډېر په هر ډول (طریقه) سره وپوهول نو کله چه دوی پرې ونه پوهیدل بالاخر ئې دوی له عذابه وویرول چه د هغه په جواب کښې هغوی داسې وویل: ﴿ وَقَالُوۡا يٰصٰلِحُ ائۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَاۤ اِنۡ كُنۡتَ مِنَ الۡمُرۡسَلِيۡنَ ﴾ یعنی که ته په خپله دغې خبرې کښې رښتین ئې نو ولې د الله تعالیٰ عذاب پر مونږ نه نازلیږي؟ او د څه لامله (له وجې) پکښې ځنډ (ایسارتیا) او ډیل واقع دی؟. حضرت صالح علیه السلام وویل: ای کمبختانو! ولې د ایمان او توبې او د نیکۍ لیار نه اختیاروئ؟ چه په دنیا او آخرت کښې ستاسي په کار درشي. او د څه له سببه بالعکس بدۍ او عذاب ژر غواړئ؟ دغه عذاب او بدی چه په خپل وقت کښې پر تاسي واقع شي نو ستاسي دغه ګرد (تول) شورماشور به پای (آخر) ته ورسیږي اوس وقت دی چه تاسي له خپلو ګناهونو څخه توبه وباسئ او خپل ځان د الله تعالیٰ له عذابه محفوظ او مصئون کړئ! تاسي ولې توبه او استغفار نه کوئ څو الله تعالیٰ د عذاب او زحمت په ځای ثواب او رحمت درمرحمت کړي.

قَالُوا اطَّيَّرۡنَا بِكَ وَبِمَنۡ مَّعَكَ ؕ

وویل (ثمودیانو) چه بدفالي نیولې ده مونږ په تا او په هغه چا چه له تا سره دي (له مؤمنانو)،

**تفسیر :** یعنی ای صالحه! له کله راهسې چه ستا قدم ځمونږ په خاوره کښې ایښود شوی دی او تا پخپلو دغو خبرو شروع کړې ده پر مونږ راز راز (قسم قسم) مصائب او مصاعب رانازل شوي دي او په هر کور کښې جنګ او جګړې نښتي دي.

قَالَ طٰٓئِرُكُمۡ عِنۡدَ اللّٰهِ بَلۡ اَنۡتُمۡ قَوۡمٌ تُفۡتَنُوۡنَ ﴿۴۷﴾

وویل (صالح) چه بدفالی د تاسی په نزد د الله ده (چه درکوی ئی په بدل د کفر د تاسی) بلکه تاسی یو قوم یئ چه ازمویلی کیږئ (کله په راحت او کله په زحمت).

**تفسیر** : یعنی دغه مصاعب او سختی ځما لامله (له وجی) پر تاسی نه دی راغلی بلکه د دغو سبب ستاسی هغه بدقسمتی ده چه الله تعالیٰ ستاسی د شرارتونو او بدو اعمالو لامله (له وجی) پر تاسی مقرری او مقدری کړی دی (بل انتم قوم تفتنون: بلکه تاسی یو قوم یئ چه ازمویلی کیږئ کله په راحت کله په زحمت) یعنی د کفر له شأمته پر تاسی دغه سختی او بدی درنازلی شوی دی تر څو ولید شی چه تاسی توبه کوئ؟ او پر خپل قصور پوهیږئ که نه؟.

وَكَانَ فِي الْمَدِينَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ يُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ ﴿٤٨﴾ قَالُوا تَقَاسَمُوا بِاللَّهِ لَنُبَيِّتَنَّهُ وَأَهْلَهُ ثُمَّ لَنَقُولَنَّ لِوَلِيِّهِ مَا شَهِدْنَا مَهْلِكَ أَهْلِهِ وَإِنَّا لَصَادِقُونَ ﴿٤٩﴾

او ؤ په ښار (د ثمودیانو) کښی نهه سړی (غټ شریر) چه فساد به ئی کاوه په ځمکه (د حجر) کښی او نه به ئی کوله اصلاح. وویل (ثمودیانو) حال دا چه قسمونه ئی خوړلی ؤ په الله چه خامخا د شپی به ولویږو پر دغه (صالح) او اهل (عیال او امت) د ده (او وژنو به ئی) بیا به خامخا ووایو مونږ هرومرو (خامخا) ولی د ده ته (که د قتل دعوی راباندی وکړی). چه نه ؤ لیدلی مونږ ځای د هلاک د اهل د ده (نو نه یو خبر چه چا وژلی دی) او بیشکه چه مونږ خامخا له صادقانو یو (په دعوی خپله کښی).

**تفسیر** : دغه نهه سړی ممکن دی چه د نهو ټبرو سرداران او مشران وی چه د دوی کار په ملک کښی پرته (علاوه) له فتنی او فساد او خرابی اچولو څخه بل هیڅ شی نه ؤ. د اصلاح او درستی په طرف به هیڅکله دوی خپل مخ نه اړوه په معظمه مکه کښی هم د کفارو نهه مشران ؤ چه تل به ئی د اسلام په مخالفت او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په معاندت کښی سعی او مجاهدت کاوه او نورو مفسرانو د هغوی نومونه هم لیکلی دی. دغو د صالح علیه السلام د قوم نهو غټو اشرارو پخپلو منځونو کښی معاهده او قسمونه سره یاد کړل چه ګرد (ټول) به سره یو ځای کیږی او د صالح علیه السلام په کور به ورننوځی. او دی سره له ګردو (ټولو) کورنۍ کهوله یوه مخه وژنی. بیا که څوک د ده د وینی دعویدار پیدا شی نو مونږ به ورته ووایو چه مونږ له دغه

داړی او د ده له وژونکی څخه نه یو خبر. او مونږ رښتیا وایو چه مونږ د ده د کور دغه تباه او وران وضعیت په خپلو سترګو نه دی لیدلی. ګواکی کله چه مونږ پخپلو د دغو حرکاتو فاعلان ؤ نو په هغه وقت کښی پخپلو ځایونو او مواقعو کښی له سره نه وو حاضر. نو د داسی یوه متفق تړون او دروغ ویلو په وسیله به هیڅ یو له مونږ ځنی نه ملزمیږی او نه بړ کیږی او په دغی پلمی (تدبیر) سره به د ده طرفداران د ده دیت له مونږ څخه وانه خلی.

---

وَمَكَرُوا مَكْرًا وَّمَكَرْنَا مَكْرًا وَّهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ۝٥٠ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ مَكْرِهِمْ
أَنَّا دَمَّرْنٰهُمْ وَقَوْمَهُمْ أَجْمَعِينَ ۝٥١ فَتِلْكَ بُيُوتُهُمْ خَاوِيَةًۢ بِمَا ظَلَمُوا ۗ إِنَّ فِي ذٰلِكَ
لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّعْلَمُونَ ۝٥٢ وَأَنْجَيْنَا الَّذِينَ اٰمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ ۝٥٣

---

او فریب وکړ دوی په فریب کولو سره او (جزا د) فریب ورکړه مونږ په جزا ورکولو سره حال دا چه دوی پری نه پوهیدل. پس وګوره چه څرنګه شو عاقبت د مکر (انجام د فریب) د دوی بیشکه چه مونږ هلاک کړل دغه (نهه واړه) او قوم د دوی تول (په غږ د جبریل) پس دغه دی کورونه د دوی (ورته وګوریء) چه وران تش پراته دی په سبب د دی چه ظلم (شرک) کاوه دوی بیشکه په دغه (اهلاک د ثمودیانو) کښی خامخا لوی دلیل (د قدرت او عبرت) دی دپاره (د هغه) قوم چه پوهیږی (په خیر او شر خپل او تری عبرت اخلی) او نجات ورکړ مونږ (له دغه عذابه) هغو کسانو ته چه ایمان ئی راوړی (یقین ئی کړی) ؤ او وو دوی چه ویریدل (له الله او ځانونه ئی ساتل له شرکه او معاصیو).

---

**تفسیر** : د دوی مکر خو هم دغه د دروغو تړون ؤ او د دوی د دغه مکر په مقابل کښی الله تعالیٰ دوی ته ښه ډیل او مهلت ورکړ چه په زړه پوری خپلو شرارتونو ته تکمیل ورکړی څو د عذاب عظیم په مستحق کیدلو کښی هیڅ حجت او عذر پاتی نشی دوی داسی ګڼل چه ګواکی مونږ صالح علیه السلام له منځه لری کوو او له دی نه نه ؤ خبر چه په واقع سره دوی پخپلو دغو اعمالو سره خپل بیخ وباسی. او په خپل لاس خپل ځان له منځونو لری کوی. موضح القرآن داسی لیکی «د دوی د اهلاک اسباب خپل د تکمیل حد ته رسیدلی ؤ ځکه څو شرارت خپل د تکمیل حد ته ونه رسیږی اهلاک نه واقع کیږی».
دغو نهو کسانو پرومبی اتفاق وکړ اوښه ئی هلاکه کړه . حضرت صالح علیه السلام وفرمایل چه اوس تاسی ته زیات له دریو ورځو څخه بل مهلت نشته. او وروسته له هغه عذاب پر تاسی

نازلیدونکی دی نو دلته دوی پخپلو منځونو کښې هم هغه پاس ترون ترلو چه ښه دی کله چه مونږ په دریو ورځو کښې مرو ښائی چه ستا کار له خپله ځانه د مخه تمام کړو لکه چه دوی د شپې له مخې د حضرت صالح علیه السلام په کور د داړې غورځولو او د صالح علیه السلام سره د اهله او عیاله د وژلو اراده وکړه او دغو نهو مشرانو د دغه ناپاک مقصد لپاره خپلې ملاوی وتړلې او بیخی تیار شول نور کفار خو د دوی تابعان او مرستیان (مددگاران) ؤ. نو الله تعالیٰ د حضرت صالح علیه السلام حفاظت وکړ او د پرښتو پیره ئې پرې مقرره کړه. څو دغه نهه تنه د الله تعالیٰ په عذاب کښې تباه او اخته شول او له خپلو ځانونو سره ئې نور قوم هم تباه او برباد کړ. څه وقت چه مکی والو د شام په لوری مسافرت کاوه نو پر لیاری به ئې په «وادی القریٰ» کښې د ثمودیانو د کلیو کندوالی او ویجاړی ودانی لیدلی په «فتلک بیوتهم خاویة» کښې د هم دی په طرف اشاره وه نو عبرت اخیستونکی ته لازم دی چه د دغه هائلهؤ واقعاتو څخه عبرت حاصل کړی چه پاک الله په څه دول (طریقه) دغو مکذبینو او منکرینو ته سخته جزاء ورکړه او د حضرت صالح علیه السلام ملګری چه ایمان ئې راوړی ؤ او له کفره او عصیان څخه ئې خپل ځانونه ژغورلی (بچ ساتلی) ؤ. هغوی ئې له هغه عذابه څرنګه وساتل؟ د الله تعالیٰ قدرت ته وګورئ په هم دغه یوه کلی کښې مؤمنان او کافران دواړه سره یو ځای اوسیدل مګر کله چه عذاب ورنازل شو د دوی په منځ کښې ئې بالانتخاب او بالتخصیص کفار هلاک او دارالبوار ته ئې فرار کړل او ابرار ئې هم هغسی بالافتخار آرام او قرار پریښودل.

وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ أَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ وَأَنتُمْ تُبْصِرُونَ ﴿٥٤﴾ أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ شَهْوَةً مِّن دُونِ ٱلنِّسَآءِ ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ ﴿٥٥﴾

او (یاده کړه قصه د) لوط کله چه وی ویل قوم خپل ته آیا راځئ تاسی فاحشی (قبیح کار د لواطت) ته حال دا چه وینئ تاسی (یو بل په دی بد عمل کښې چه څومره مردار کار دی؟) آیا تاسی خامخا راځئ سړیو ته له جهته د شهوت غیر له ښځو (چه د شهوت د دفعی لپاره دی) بلکه تاسی یو قوم یئ ناپوهان (له قبح د عواقبو خپلو).

**تفسیر :** یعنی که تاسی نه پوهیږئ چه د دغی بی حیائی آخره خاتمه څه کیږی؟ نو په انتهائی درجه جاهلان او ناپوهان یئ.

فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓا۟ أَخْرِجُوٓا۟ ءَالَ لُوطٍ

مِّن قَرۡيَتِكُمۡۖ إِنَّهُمۡ أُنَاسٞ يَتَطَهَّرُونَ ٥٦

پس نه ؤ جواب د قوم د دغه (لوط بل شی) مگر هم دا ؤ چه وبه ئی ویل دوی (یو بل ته) وباسئ (وشړئ) تاسی خیلخانه د لوط له دی ښاره خپله (چه سدوم دی) بیشکه دوی داسی سړی دی چه ځانونه پاک ساتی (له کارونو ځموږ او بد ئی گنی).

**تفسیر** : یعنی دغه لوط چه خپل ځان لوی، پاک، صاف، او صفا ساتی نو بیا ځموږ له ناپاکانو سره څه کار او غرض لری؟.

فَأَنجَيۡنَٰهُ وَأَهۡلَهُۥٓ إِلَّا ٱمۡرَأَتَهُۥ قَدَّرۡنَٰهَا مِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ ٥٧ وَأَمۡطَرۡنَا عَلَيۡهِم مَّطَرٗاۖ فَسَآءَ مَطَرُ ٱلۡمُنذَرِينَ ٥٨

پس نجات ورکړه موږ دغه (لوط) ته او اهل د دغه (لوط) ته مگر ښځه د ده چه مقدره کړی وه موږ هغه (کافره ښځه په ازل کښی) له باقی پاتی کیدونکیو (په عذاب کښی). او ووراوه موږ پر دوی باران (د تیږو (گټو) چه هلاک شول پری) پس بد باران د ویرول شویو (په عذاب سره باران د دوی دی).

**تفسیر** : یعنی هغوی ئی تباه او هلاک کړل او لوط علیه السلام ته ئی سره د ده د مسلمانانو ملگریو نجات ورکړ. لیکن د حضرت لوط علیه السلام ښځه چه د دغو اشرارو کفارو سره ئی مرستی (مدد) کولی هغه هم له هم هغو هلاک کیدونکیو سره پاتی شوه او په دغو گردو (تولو) مجرمینو باندی پاک الله له آسمانه تیږی (گټی) اورولی او دغه ښار ئی له یوه مخه پر بل مخ واړاوه.

«موضح القرآن» پر دغو دریو واړو قصو د خپلی تبصری په منځ کښی داسی لیکی: «چه د حضرت سلیمان علیه السلام په قصه کښی ئی وفرمایل چه موږ به داسی لښکر راولو چه د هغو مقابله به هیڅوک نشی کولی. نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د مکی والو په منځ کښی هم هغه خبره وشوه. او حضرت صالح علیه السلام ته نهه تنه مشران متفق شول چه د شپی له مخی د حضرت صالح علیه السلام په کور ورننوځی نو الله تعالیٰ صالح علیه السلام ته نجات ورکړ او دوی ئی تباه کړل. مکی والو هم ځموږ د پاک رسول صلی الله علیه وسلم له پاره هم داسی کوهی

کنستلی ؤ مگر دوی پخپله د «بدر» په قلیب کښی ولویدل. په هغه شپه چه رسول الله مبارک هجرت کاوه دیر کفار د رسول الله مبارک د کور په شاو خوا کښی سترگی په لیار منتظر ناست ؤ څو چه رسول الله صلی الله علیه وسلم گهیځ (سحر) د وقته د لمانځه لپاره وځی نو مونږ ئی بالاتفاق په تیاره کښی ووژنو چه قصاص ئی هم پر مونږ وانه وړی مگر رسول الله صلی الله علیه وسلم له دوی ځنی داسی روغ رمټ ووت چه د دوی د یوه تن فکر او فهم هم ورته ونشو. او د لوط علیه السلام قوم غوښتل چه نبی الله له ځپله ښاره وباسی نو هم هغسی فکر او اراده مکی والو هم لرله لیکن پاک الله دی په خپل فضل او مرحمت سره د دوی د دغه ښار له منځه پخپل واک او اختیار سره وویست. او په دغه سره ئی دی بریالی (کامیاب) کړ او کار ته ئی ترقی او لا رونق ور کړ.

---

قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَسَلٰمٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى ءٰۤاللّٰهُ خَيْرٌ اَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿٥٩﴾

---

ووایه (ای محمده!) چه تولی ثناوی ستائنی (صفتونه) خاص الله لره دی (په نصرت د ابرارو او ذلت د کفارو) او سلام دی پر بندگانو د دغه (الله) هغه (بندگان) چه غوره کړی دی دوی (الله پر تولو مخلوقاتو)، آیا الله خیر بهتر غوره که هغه بتان چه دوی ئی شریکان کوی (له الله سره؟ بلکه الله بهتر دی!).

---

**تفسیر :** وروسته د قصصو له فراغه له : «آلله خیر اما یشرکون» ئی د توحید بیان فرمایلی دی دغه الفاظ د خطبی په دول (طریقه) تعلیم فرمائی چه ښائی پخوا له بیانه وی. «موضح القرآن» لیکی: د الله تعالیٰ تعریف کول او په انبیاؤ سلام لیږل او وروسته له هغه په بله خبره شروع کول ئی خلقو ته وروښودل . ځینی مفسرین وائی د الله تعالیٰ هغه کمالات او احسانات چه پاس د قصصو په منځکښی مذکور شول پر هغو ځمونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته حکم وشو چه د الله تعالیٰ حمد او ثناء ووائی او شکر پر ځای راوړی او پر هغو مقبولو بندگانو چه د ځینو د هغو ذکر پاس وکړ شو سلام ولیږی. له دی ځایه د توحید وعظ شروع کړی شوی دی یعنی د پاس قصصو د اوریدلو او په تکوینیهؤ آیاتونو باندی د فکر او غور کولو څخه وروسته تاسی پخپله دغه راوښیی. چه د دغه «وحده لاشریک له» الله تعالیٰ منل خیر، بهتر، غوره، نافع او معقول دی؟ یا د ده په الوهیت کښی د هغو خوارو عاجزانو او ناتوانو مخلوقاتو معبود درول؟ او له الله تعالیٰ سره ئی شریک گرځول؟ اوس دغه مسئله دومره سخته او مشکله نه ده چه د هغی په فیصله کولو کښی څه تدقیق او څند (ایسارتیا) کولو ته څه حاجت او ضرورت پاتی وی خو بیا هم د زیات تذکیر او تنبیه په غرض وروسته له دی نه د الله تعالیٰ ځینی داسی شئون او صفات بیانیږی

چه د ده پر توحید او تقدس دلالت کوی او ځینی هغه خیر او نفعی شمیرلی کیږی چه د الله تعالیٰ د رحمت او د فضل آثار په هغو کښی له ورا ښکاری نو فرمائی چه:

اَمَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَاَنْزَلَ لَكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَآءً ۚ فَاَنْۢبَتْنَا بِهٖ حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ ۚ مَا كَانَ لَكُمْ اَنْ تُنْۢبِتُوْا شَجَرَهَا ؕ

بلکه هغه څوک (بهتر دی) چه پیدا کړی ئی دی آسمانونه او ځمکه او نازلې کړی ئی دی دپاره د تاسی له (طرفه د) آسمان اوبه پس زرغون کړل مونږ په دغو (اوبو) سره باغونه خاوندان د رونق (او ښائست)، نه دی کیدونکی له تاسی دا (کار) چه زرغونی کړئ تاسی ونې د هغو

تفسیر: آیا دغه الله موصوف په دغو صفاتو بهتر دی که معبودان د تاسی چه هیڅ نشی کولی بلکه له سره د ونو زرغونول ستاسی په اختیار کښې نه دی، دا لا څه چه له هغه ځینې میوې او ثمرات او نور شیان هم راوباسئ.

ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ بَلْ هُمْ قَوْمٌ يَّعْدِلُوْنَ ؕ۝۶۰

آیا شته بل معبود له الله سره ؟ (نه نشته) بلکه دغه (مشرکان) یو داسی قوم دی چه څنګ کوی (له توحیده)

تفسیر: یعنی په دی باندی ګرده (ټوله) دنیا پوهیږی او پخپله هم دغه مشرکان ئی هم منی چه د ځمکی او آسمان پیدا کول ـ د باران (وریا) ورول ـ د ونو ـ نباتاتو زرغونول غیر له الله تعالیٰ څخه د بل چا کار نه دی ـ لکه چه د لوی قرآن کریم په بل ځای کښې د مشرکانو داسی اقرار او اعتراف هم مذکور دی بیا وروسته له دی نه چه تر دی ځای پوری ورسیدئ نو بیا ولی له سمی لاری څخه کاږه کیږئ ؟ کله چه ماسواء الله څخه بل داسی یو ذات نشته چه د دغو ګردو (ټولو) مخلوقاتو انتظام او تدبیر وکړی شی ـ یا د کوم شی مستقل اختیار ولری ـ نو بیا د الله تعالیٰ په الوهیت او معبودیت کښې څرنګه بل څوک ورسره شریکیدی شی ؟ «عبادت» د انتهائی تذلل نوم دی نو دغسی عبادت هغه ذات ته لائق دی چه په انتهائی درجه کامل او بااختیاره وی ـ د کوم ناقص یا عاجز مخلوق له لوی خالق سره په معبودیت کښې برابرول ـ انتهائی ظلم ـ ضد او عناد دی.

أَمَّنْ جَعَلَ الْأَرْضَ قَرَارًا وَّجَعَلَ خِلٰلَهَآ أَنْهٰرًا وَّجَعَلَ لَهَا رَوَاسِيَ

بلکه هغه څوک (بهتر دی) چه ګرځولی ئی ده ځمکه ځای د قرار (آرام) او ګرځولی ئی دی په منځ د دغی ځمکی کښی نهرونه (سیندونه رودونه ویالی د اوبو) او ګرځولی ئی دی دغی (ځمکی) ته محکم لوړ (اوچت) غرونه.

**تفسیر:** چه په کښی ایښی دی لکه میخونه او بارونه ترڅو ودریږی ونه خوزی یعنی د انسانانو او حیواناتو دیره ځای دی چه په آرامی سره پری ژوندون کوی ـ او له دی حاصلاتو او پیداوارو څخه ګټه (فائده) او نفعه اخلی.

وَجَعَلَ بَيْنَ الْبَحْرَيْنِ حَاجِزًا ط

او ګرځولی ئی ده په منځ د دوو بحرونو (خواږه او تروه) کښی پرده (چه سره ګډ نشی).

**تفسیر:** آیا دغه الله موصوف په دغو صفاتو بهتر دی که معبودان د تاسی چه هیڅ نشی کولی ؟ د دی تحقیق پر دغه آیت لیکلی شوی دی ﴿ وَهُوَ الَّذِي مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَّهٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ ۚ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَّحِجْرًا مَّحْجُورًا ﴾ جزء ١٩ د الفرقان په (٥) رکوع ٥٣ آیت کښی دی ولوست شی.

ءَإِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ط بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٦١﴾

آیا شته بل معبود له الله سره ؟ (نه! نشته) بلکه اکثر د دغو (مشرکانو) نه پوهیږی.

**تفسیر:** په توحید چه ایمان نه راوړی یعنی آیا بل کوم بااختیاره ذات شته ؟ چه دغسی کار وکړی شی ؟ او پر دغه بناء د معبود ګرځیدلو لائق شی ؟ کله چه نشته ـ نو معلوم شو چه دغه مشرکین محض د جهالت او ناپوهی لامله (له وجی) د شرک او مخلوق پرستئ په ژوره کنده کښی لویدلی دی او لا پسی د جهل په سوړو کښی ننوځی.

أَمَّنْ يُّجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوٓءَ

بلکه هغه څوک (بهتر دی) چه قبلوی سوال د عاجز (بیکس بی‌بس) کله چه
وبولی دغه (مضطر) هغه (الله اکبر) او لری کوی بدی سختی

**تفسیر:** یعنی کله چه الله تعالیٰ اراده وفرمائی نو د بیکسانو او ناقرارانو او بی وځلو دعاوی او ناری آوری ـ سختی او ربړ (تکلیف) تری لری کوی ـ لکه چه جزء ۷ د «الانعام» په «٤» رکوع ٤١ آیت کښی یی فرمایلی دی ﴿فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُونَ إِلَيْهِ إِنْ شَآءَ﴾ ګواکی الله تعالیٰ دعاء هم له عادیه ؤ اسبابو څخه یو سبب ګرځولی ده چه پری د مسبب ترتب د الله تعالیٰ په مشیت د شروطو پر استجماع او د موانعو پر ارتفاع کیږی. علامه طیبی رحمة الله علیه او نورو ویلی دی چه په دغه آیت کښی مشرکینو ته تنبیه ده چه د سختیو مصائبو او شدائدو په وقت کښی تاسی هم مضطرب کیږئ او هم دغه پاک الله ته دعا او ناری کوئ او نور معبودان ستاسی له یاده وځی ـ نو بیا د فطرت او ضمیر دغه شهادت مو ولی د امن او اطمینان په وقت کښی له تاسی هیریږی ؟

وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَآءَ الْأَرْضِ ؕ

او ګرځوی (الله) تاسی لره خلیفګان په ځمکه کښی (په ځای د تیرو خلقو)

**تفسیر:** آیا دغه الله موصوف په دغو صفاتو سره بهتر دی که معبودان د تاسی چه هیڅ نه شی کولی؟ یعنی یو قوم او نسل له ځمکه څخه پورته کوی او د دوی په ځای بل قوم او نسل ودانوی چه دوی پر ځمکه د مالکیت او سلطنت له حیثه تصرفات کوی.

ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۶۲﴾

آیا شته بل معبود له الله سره؟ (نه نشته) لږ شانته پند قبلوئ (او غور چلوئ تاسی).

**تفسیر:** یعنی که تاسی په پوره ډول (طریقه) سره فکر کولی نو د لری تللو لپاره هیڅ یو ضرورت نه ؤ پاتی. هم دغو خپلو حوائجو او ضروریاتو او د اقوامو هم دغه تبدیل او تغیر ته به مو کتل نو پخپله به پوهیدئ چه د هغه ذات د قدرت په لاس کښی چه د دغو امورو قبضه او اختیار دی یواځی هم هغه ذات د عبادت وړ (لائق) او مستحق دی.

أَمَّنْ يَهْدِيكُمْ فِي ظُلُمَٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَنْ يُرْسِلُ الرِّيَٰحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهِۦٓ ۗ

بلکه هغه څوک (بهتر دی) چه لاره ښیی تاسی ته (په ستوریو سره) په تیارو د بر (بیدیا) او (په تیارو) د بحر (سیند) کښی او هغه (څوک بهتر دی) چه رالیږی بادونه زیری کوونکی په مخ کښی د رحمت (باران) خپل

**تفسیر:** آیا دغه الله موصوف په دغو صفاتو سره بهتر دی ؟ که معبودان د تاسی چه هیڅ نشی کولی ؟ الله تعالیٰ د وچی او د سیند په تیارو کښی د ستوریو په وسیله ستاسی لار ښوونه کوی اعم له دی نه چه بلاواسطه وی که د قطب ښوونکی او نورو آلاتو په واسطه وی. او پخوا د رحمت له بارانه هواوی او بادونه چلوی او په هغو سره د باران د راتګ زیری ورکوی.

أَءِلَٰهٌ مَّعَ اللَّهِ ۚ تَعَٰلَى اللَّهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٦٣﴾

آیا شته بل معبود له الله سره ؟ (بلکه نشته) ډیر لوی ډیر پورته دی الله له هغو (شیانو) چه شریکوی ئی دغه (مشرکان له الله سره).

**تفسیر:** یعنی چیری هغه مطلق قادر او برحق حکیم او چیری هغه عاجز او ناقص مخلوق برابر دی چه هغوی د الوهیت شریکان ښوولی کیږی ؟

أَمَّنْ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ

آیا هغه څوک چه له ړومبی ئی پیدا کړی دی خلق (له نطفی په ارحامو کښی) بیا به ئی ژوندی کوی (بعد الموت په قیامت کښی).

**تفسیر:** ګرد (ټول) خلق دغه قبلوی چه ابتدائی تخلیق د الله تعالیٰ کار دی. وروسته له مرګه بیا ژوندی پاڅیدل هم پر هم دغه قیاس کړئ د «**بعث بعد الموت**» منکرین هم هم دغومره پوهیږی که بالفرض وروسته له مرګه بیا ژوندون وی نو هغه کار هم د هم هغه ذات دی چه اول ځلی ئی پیدا کړی دی.

وَمَنْ يَرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْأَرْضِ ۗ

او هغه څوک چه رزق روزی درکوی تاسی ته له (طرفه د) آسمانه (په باران) او له ځمکی (په محصولاتو ئی آیا دغه الله موصوف په دغو صفاتو بهتر دی ؟ که معبودان د تاسی چه هیڅ نشی کولی !؟)

**تفسیر:** یعنی هغه کوم ذات دی چه د سماوی او ارضی اسبابو په وسیله سم له خپله حکمته سره تاسی ته روزی در رسوی ؟

ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۶۴﴾

آیا شته بل معبود له الله سره ؟ (بلکه نشته) ووایه (ای محمده ! دوی ته) راوړئ تاسی برهان (سند) خپل (په دی چه غیر له الله هم داسی کولی شی) که چیری یئ تاسی صادق (رښتین په دی دعوی خپله کښی).

**تفسیر:** یعنی سره د دغو صافو ، ښکارو دلائلو له آوریدلو بیا تاسی د الله تعالیٰ وحدانیت او د کفر او شرک نقصان او قباحت نه تسلیموئ نو هر هغه دلیل چه تاسی ئی د خپلی دغی باطلی دعوی په ثبوت کښی لرئ هغه راوړاندی کړئ ! څو د هغی له مخی ستاسی دروغ او رښتیا ښکاره شی مګر له هغوی سره دلیل او برهان چیری دی ؟ محض د ړندو په تقلید رهی (روان) دی. ﴿وَمَنْ يَّدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ ۙ لَا بُرْهَانَ لَهٗ بِهٖ ۙ فَاِنَّمَا حِسَابُهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ﴾ جزء ۱۸ (د المومنون (٦) رکوع) ۱۱۷ آیت .

قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ ؕ

ووایه (ای محمده ! دوی ته) نه پوهیږی هغه څوک چه په آسمانونو کښی دی او په ځمکه کښی دی (له پرښتو او انسانانو په غیبو امورو باندی) مګر (عالم دی پر غیبو) الله

**تفسیر:** دغه آیت د سابق مضمون تکمیل او د لاحق مضمون تمهید دی. د دی جزء له ابتداء څخه تر دی ځایه پوری د الله تعالیٰ د تام قدرت ـ عام رحمت ـ د کامل ربوبیت بیان ؤ ـ یعنی هر کله چه الله تعالیٰ په دغو صفاتو او شئونو کښی متفرد دی نو ښائی چه په الوهیت او معبودیت کښی هم متفرد وی. په دغه آیت کښی په الوهیت له بله حیثیته استدلال کاوه شی یعنی معبود به هم هغه ذات کیدی شی چه له تام قدرت سره محیط او کامل علم هم ولری ـ او دا هغه

صفت دی چه په ځمکه او آسمان کښې هیڅ یو مخلوق ته نه دی حاصل او د هم هغه رب العزت سره مخصوص دی پس په دغه اعتبار سره هم د معبودیت استحقاق له هم هغه واحد ذات لپاره ثابت شو.

چتی (بیکاره) وائی چه وینا کوی له پتو
بی له خدایه نه پوهیږی څوک په پتو
پاک نبی ته به جبریل تل کړه وینا
لوی څښتن (خاوند) به جبرئیل ته کړه وینا

**تنبیه:** پر ټولو غیبو امورو ماسواء الله څخه بل هیچا ته کامل علم نه دی حاصل ـ او نه کوم غیبی علم یو سړی ته بالذات بی د الله تعالیٰ له عطاء څخه ور په برخه کیدی شي او نه الله تعالیٰ مفاتیح الغیب (د غیب کنجیګانی) چه ذکر ئی د «الانعام» په سورت کښې تیر شو د بل کوم مخلوق په لاس کښې ورکړی دی. هو! ځینی خپل بندګان پخپل اختیار پر ځینو غیبیه ؤ امورو مطلع کوی چه د هغه لامله (له وجی) مونږ ویلی شو چه الله تعالیٰ هغه سړی پر غیب مطلع فرمایلی دی. یا غیبی خبر ئی ورته ورکړی دی. لیکن پر هم دغومره یوه خبره قرآن او سنت په هیڅ یو ځای کښې پر داسی یو سړی د **«عالم الغیب»** یا فلان **«یعلم الغیب»** اطلاق نه دی کړی. بلکه په احادیثو کښې تری انکار هم شوی دی ځکه چه دغه الفاظ ظاهراً له دی نه مخالف دی چه «د علم الغیب اختصاص د باری تعالیٰ له ذات سره دی» نو ځکه محققین علماء اجازه نه ورکوی چه د دغسی الفاظو اطلاق پر کوم بنده وکړی شی ـ اګر که لغت صحیح هم وی ـ لکه چه که څوک داسی ووائی **«ان الله لایعلم الغیب»** ـ له الله سره د غیبه ؤ امورو علم نشته» اګر که د ده مراد داسی وی چه د الله تعالیٰ په نسبت هیڅ شی له سره ورته غیب نه دی سخته ناروا او بی ادبی ده هم داسی که څوک له حق څخه «موت» او له «فتنی» څخه اولاد ـ او له «رحمت» څخه «باران» مراد واخلی ـ او داسی الفاظ ووائی **«انی اکره الحق ـ احب الفتنة ـ وافرمن الرحمة»** ـ زه حق بد ګنم ـ او فتنه می خوښه ده او له رحمته څخه تښتم» نو دغسی ویل هم سخت قبیح او مکروه دی ـ حال دا چه د نیت او مراد په اعتبار قبیح نه دی ـ هم داسی «فلان یعلم الغیب» او د هغه په شان نور الفاظ هم وګڼئ ! واضح دی وی چه د «عالم الغیب» څخه ځمونږ مراد محض ظنون او تخمینات نه دی ـ او نه هغه علم مقصود دی چه له قرائنو او اماراتو څخه حاصلاوه شی ـ بلکه هغه مراد دی چه د هغه لپاره هیڅ یو دلیل او قرینه نه وی موجوده په سورت الانعام او سورت الاعراف کښې د دی موضوع په متعلق لږ څه لیکلی شوی دی ـ هلته دی مراجعت وکړی شی.

وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ ﴿٦٥﴾

او نه پوهیږی دغه (کفار) چه کله به بیا ژوندی راپاڅول شی دوی.

**تفسیر**: یعني پر قیامت یقین نه لری او وائی چه قیامت کله راځی ؟ چه د هغه په اثر مړی بیا ژوندی کیږی ـ پر دغه هیڅوک نه دی خبر ږومبئ د مبدأ ذکر کیده له دی ځایه وروسته د معاد ذکر شروع کیږی.

بَلِ ادّٰرَكَ عِلْمُهُمْ فِى الْاٰخِرَةِ بَلْ هُمْ فِىْ شَكٍّ مِّنْهَا بَلْ هُمْ مِّنْهَا عَمُوْنَ ﴿۶۶﴾

بلکه ستړی ستومان او له کاره لویدلی دی علم د دوی په (کار د) آخرت کښی بلکه دغه (کفار) په شک کښی دی له دغه (قیامت) بلکه دغه (کفار) له دغه (قیامته) ړانده دی (د زړه په سترګو چه پری باور نه کوی).

**تفسیر**: یعني ډیر عقل او فکر ئی وچلوه او له ډیر فکر وهلو څخه بیخی ستړی او ستومان شول خو سره له هغه هم د آخرت په حقیقت او کیفیت ونه پوهیدل. کله د هغه په نسبت په حیرت شول کله په شک کښی تری ولویدل ـ او کله تری منکران شول. (موضح) ځینو مفسرینو داسی تقریر کړی دی چه د آخرت تر ادراکه پوری د دوی علم ونه رسید او نه د عدم العلم له وجی څخه دوی خالی الذهن پاتی شول ـ بلکه د هغه په متعلق په شک او تردد کښی ولویدل او نه یواځی په شک او تردد اخته شول بلکه له هغو دلائلو او شواهدو څخه ئی خپلی سترګی پټی کړی چه په هغو کښی له غور او تأمل کولو څخه د دوی شکوک او تردد رفع کیدی شو.

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا ءَاِذَا كُنَّا تُرٰبًا وَّاٰبَآؤُنَآ اَئِنَّا لَمُخْرَجُوْنَ ﴿۶۷﴾ لَقَدْ وُعِدْنَا هٰذَا نَحْنُ وَاٰبَآؤُنَا مِنْ قَبْلُ اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۶۸﴾

او وائی هغه کسان چه کافران شوی دی (او د زړه سترګی ئی ړندی دی) آیا کله چه شو موږ خاوری او پلرونه ځموږ (هم خاوری شی) آیا خامخا به

مونږ هرومرو (خامخا) رایستلی شو (ژوندی له ځمکی جزاء ته) خامخا په تحقیق وعده کړی شوی ده له مونږ سره د دی (بعث بعد الموة هم) له مونږ سره او هم له پلرونو ځمونږ سره له دی (وعدی د محمد نه) پخوا (د نورو انبیاؤ له خوا) نه دی دغه خبری (بل شی) مګر لیکلی قصی (باطلی دروغ افسانی) دی د ړومبنیو (خلقو).

**تفسیر:** یعنی پخوا له دی نه ځمونږ له پلرونو سره هم داسی وعدی شوی وی دغه ده چه عیناً نن له مونږ سره هم هغسی خبری او اتری دغه رسول کوی. لیکن سره د دومره قرنو او پیړیو د تیریدلو مونږ ته تر نن ورځی پوری دغه خبره نشوه ښکاره او نه مو واوریده چه وروسته له دی نه چه مړی په خاورو کښی سره ګډوډ او مخلوط شی هغه به بیا ژوندی کیږی ـ لکه د پخوا په شان روغ رمټ انسان تری جوړ او عیان کیږی او بیا د خپلو اعمالو سزا مومی ؟

قُلْ سِيْرُوْا فِى الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿٦٩﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) چه وګرځئ تاسی په ځمکه (د مکذبینو) کښی پس وګورئ چه ښرنګه شو عاقبت (آخره خاتمه) د ګنهګارانو (کافرانو ؟ او تری عبرت واخلئ!)

**تفسیر:** یعنی ډیرو مجرمانو ته په هم دغه دنیا کښی عبرتناکه سزا ورکړی شوی ده او د انبیاؤ مواعید پر دوی منطبق ګرځیدلی دی پر هم دغه دی د بعث بعد الموت قیاس هم ښائی چه وکړ شی چه بالیقین بعث ـ حساب کتاب ـ ثواب ـ عقاب او اخروی عذاب شته چه ټول رښتیا دی او الله تعالیٰ له هغه ښخه خبر راکړی دی او هغه ضرور راتلونکی دی او دغه لویه کارخانه هم داسی خوشی چتی (بیکاره) بی پایه او بی نتیجی نه پاتی کیږی او دغه هم امکان نه لری چه پر دغو ټولو علویه ؤ او سفلیه ؤ موجوداتو داسی کوم عمومی حاکم نه وی چه حق په حقدار ورسوی او خپل دغه ګرد (ټول) رعایا هم داسی چتی (بیکاره) او مهمل پریږدی کله چه ټولو مجرمانو ته دلته پوره سزا نه ورکوله کیږی نو یقینی ده چه هرومرو (خامخا) بل کوم ژوندون او جهان شته چه هلته به هر ښوک د خپلو اعمالو نتیجه او سزا او جزاء ومومی. که تاسی پر هم دغه خپل تکذیب دوام (ټینګوالی) وکړئ نو هم هغسی چه د نورو مکذبینو آخره خاتمه او انجام شوی دی ستاسی به هم کیږی.

وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُنْ فِىْ ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُوْنَ ﴿٧٠﴾

او مه خفه کیږه (ای محمده!) پر دوی (چه ستا تکذیب کوی او له ایمانه مخ اړوی) او مه اوسه په تنګی (د زړه) کښې له هغه چه دوی مکر کوی (له تا سره ځکه چه زه ستا حافظ او ناصر یم).

**تفسیر:** یعنی ای محمده دغه مکذبان د دوی په ښو او بدو په ښه شان سره وپوهوه! او د آخری خاتمی تنبیه ورته ورکړه! وروسته له دغو پوهولو له دوی نه جلا (جدا) شه! که دغه خلق حق ونه منی نو تاسی ډیر غمجن، متأسف او مه خفه کیږئ! او نه د دوی د مکر او فریب او د حق په خلاف له تدبیر کولو څخه زړه تنګه او ملول کیږئ! تاسی خو خپل فرض په پوره ډول (طریقه) سره اداء فرمایلی دی. الله تعالیٰ پخپله داسی ضدی او عنادی کسانو ته سزا ورکوی او هم هغسی چه پخوانی مجرمان ئی په سزا رسولی دی دوی هم رسوی.

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٧١﴾

او وائی دا (کفار) کله به وی دغه وعده (د نزول د عذاب) که یئ تاسی صادقان (رښتینی په دغی دعوی خپلی کښې).

**تفسیر:** یعنی بالاخر هغه قیامت کله راځی؟ او له هغو عذابونو څخه مو چه ویروی هغه به کله نازلیږی.

قُلْ عَسَىٰ أَن يَكُونَ رَدِفَ لَكُم بَعْضُ الَّذِي تَسْتَعْجِلُونَ ﴿٧٢﴾

ووایه (ای محمده! دوی ته) چه نژدی ده چه شی پیوست په تاسی پسی ځینی هغه (عذاب) چه غواړئ ئی تاسی په جلتی.

**تفسیر:** یعنی ډیر شورماشور او غوغا مه نښلوئ! هغه وعده هرومرو (خامخا) ایفاء کیدونکی ده او هیڅ لری نه ده چه د هغی وعدی کومه برخه تاسی ته ډیره نژدی شوی او در پوری نښتی هم وی لکه چه ډیری ورځی نه وی تیری چه پر دوی باندی سخت قحط نازل شو او هم د «بدر» په غزوه کښې د دغه عذاب یوه برخه وررسیده پاتی شو قیامت کبریٰ د هغه هم ځینی آثار او علائم در ښکاره شوی دی. (په ردف لکم «ل» زائد دی).

وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَشْكُرُونَ ﴿٧٣﴾

او بیشکه رب ستا خامخا څیښتن (خاوند) د فضل (احسان انعام) دی پر خلقو (چه دوی ژر په ګناهونو نه نیسی ولیکن اکثر د دوی شکر نه کوی (په دی نعمت چه د عذاب تأخیر دی).

**تفسیر:** یعنی که الله تعالیٰ پخپل فضل او کرم سره د عذاب په لیږلو کښی تأخیر کوی نو لازم ؤ چه دوی دغه تأخیر غنیمت ګڼلی ـ او د دغی مهربانی په مقابل کښی ئی شکر ایستی او د صالح عمل لاره به ئی خپلو ځانونو ته غوره کړی وی لیکن پر خلاف د دی دوی ناشکری کوی او په خپله خوله عذاب غواړی.

وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمْ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٧٤﴾ وَمَا مِنْ غَائِبَةٍ فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ ﴿٧٥﴾

او بیشکه رب ستا ته خامخا معلوم دی هغه څه چه پټوی ئی سینی (زړونه) د دغو (کفارو) او هغه څه چه ښکاروی ئی دوی. او نشته هیڅ شی پټ پناه (له حوادثو) په آسمان کښی او په ځمکه کښی مګر (لیکلی) دی په کتاب ښکاره (لوح محفوظ) کښی.

**تفسیر:** یعنی ستاسی ظاهری او باطنی اعمال ، د زړونو پټی خبری ، نیات ، ارادی، د ځمکی او د آسمانونو ډیر زیات پټ اسرار ګرد (تول) د الله تعالیٰ په علم کښی او د لوح محفوظ په دفتر کښی درج دی. هره خبره له هغه سره موافقه واقع کیږی د ژر غوښتلو او تلوار کولو یا ځند (ایسارتیا) او ډیل کولو څخه هیڅ یو حاصل او ګټه (فائده) په لاس نه درځی ـ هر هغه څیز چه د الله تعالیٰ په علم کښی طی شوی وی ژر یا په ځند (ایسارتیا) پر خپل وقت هرومرو (خامخا) کیدونکی دی او هر یوه ته سم د ده له عمل ، نیت ، عزم او ارادی سره موافقه ثمره او نتیجه خامخا وررسیدونکی ده.

إِنَّ هَٰذَا الْقُرْآنَ يَقُصُّ عَلَىٰ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَكْثَرَ الَّذِي هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿٧٦﴾ وَإِنَّهُ لَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿٧٧﴾

بیشکه چه دغه قرآن قصه کوی (بیانوی) پر بنی اسرائیلو (اولادی د

یعقوب) باندی اکثر له هغو خیزونو چه دوی په هغو (خیزونو) کښې سره اختلاف کوی. او بیشکه دغه (قرآن) خامخا هدایت دی او رحمت دی لپاره د مؤمنانو (چه هم دوی پری نفع اخلی).

**تفسیر:** یعنی اوس د عملی فیصلی وقت نه دی راغلی ـ بیشکه قرآن د قولی او عملی فیصلی دپاره راغلی دی ـ په دغه وقت کښې په سماویه ؤ علومو او مذهبی شیانو کښې له ګردو (تولو) څخه لوی علماء بنی اسرآئیل ګنل کیدل مګر د عقائدو، احکامو، قصصو ، روایاتو او نورو په متعلق د هغوی د شدیدو اختلافاتو قاطعه فیصله او ښه تصفیه هم دغه پاک قرآن اورولی ده. فی‌الحقیقت قرآن هغه لوی کتاب دی چه ګردی (تولی) دنیا ته ئی د الله تعالیٰ آخری پیغام رسولی دی ـ او د ایمان راوړونکیو خلقو لارښوونه ئی کری ده څو ګرد (تول) خلق د هغی لوئی ورځی دپاره تیاری او آمادګی وکړی چه په هغی کښې به د هری معاملی عملی فیصله کیږی.

إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِي بَيْنَهُم بِحُكْمِهِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْعَلِيمُ ﴿٧٨﴾

او بیشکه رب ستا فیصله به وکړی په منځ د دوی کښې (په قیامت کښې) په حکم (عدل) خپل سره او هم دی ښه غالب قوی دی (په انفاذ د احکامو) ښه علم والا (پر تولو احوالو او اشیاؤ)

**تفسیر:** یعنی قرآن خو د پوهولو او ښوولو دپاره نازل شوی دی باقی د ګردو (تولو) معاملاتو حکیمانه او عادلانه فیصله سم له حکمته سره پخپله قدرت لرونکی قادر او توانا الله تعالیٰ کوی.

فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۖ إِنَّكَ عَلَى الْحَقِّ الْمُبِينِ ﴿٧٩﴾

پس توکل (اعتماد) وکړه خاص پر الله (او د معاندانو له عداوته مه ویریږه ای رسوله ځما!) بیشکه چه ته پر حق ښکاره ئی (چه اسلام دی).

**تفسیر:** یعنی تاسی د هیچا د اختلاف او تکذیب څخه مه متأثر کیږئ! یوائځی پر پاک الله اعتماد او توکل ولرئ! او پخپله وظیفه کښې چه دعوت او تبلیغ دی مشغول او لګیا اوسئ! پر هغه سمه صافه لاره چه تاسی درومئ په هغی کښې هیڅ قسم خرخشه او اندیښنه نشته کله چه انسان پر سمه لاره رهی (روان) وی ـ او پر واحد الله اعتماد ولری ـ نو د بل هیڅ شی ویره او اندیښنه ورسره نه وی.

إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاءَ إِذَا
وَلَّوْا مُدْبِرِينَ ۝٨٠ وَمَا أَنتَ بِهَادِي الْعُمْيِ عَن ضَلَالَتِهِمْ ۖ
إِن تُسْمِعُ إِلَّا مَن يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا فَهُم مُّسْلِمُونَ ۝٨١

بیشکه ته نشی اورولی (خبره) مړیو ته او (هم داسی) نشی اورولی کڼو ته غږ د نارو (د وعظ) کله چه وګرځی دوی په دی حال کښې چه شا کوونکی وی. او نه ئی ته لاره ښوونکی ړندو ته (چه ئی راوګرځوی) له ګمراهی د دوی ځنځه نه اوروی ته (په سماع د فائدی رسولو سره) مګر هغه چاته چه ایمان راوړی په آیتونو (د قدرت) ځمونږ پس هم دوی مسلمانان دی (غاړه ایښودونکی الله ته).

**تفسیر:** یعنی هم هغسی چه یوه مړی ته خطاب یا کوم کانه ته ناری وهل په تیره بیا چه تاته ئی شا هم وی او په مندو در ځنځه ځغلی ـ او د ناری وهونکی په طرف قطعاً ملتفت نه وی سودمن نه دی هم دغه د هغو مکذبینو حال دی چه د دوی زړونه مړه شوی دی او په زړه کانه هم دی او د اوریدلو اراده هم بیخی نه لری نو د دوی په حق کښې هیڅ نصیحت نافع او کار کوونکی نه دی که یو خاص ړوند د غتو او رڼو سترګو خاوند نشی نو تاسی به هغه ته څرنګه لار یا بل شی وروښوولی شی ؟ دغه خلق د زړه ړانده هم دی او نه غواړی چه د ړوند والی ځنځه هم ووځی نو بیا ستاسی په ښوونه سره که دوی وغواړی چه وګوری ـ نو څرنګه به وکتلی شی ؟ یعنی پند او نصیحت د هغو خلقو په حق کښې نافع دی چه ئی ومنی او پری متأثر شی. او د اثر قبلول هم دغه دی چه د الله تعالیٰ پر کلام یقین او باور وکړی او وئی منی.

وَإِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ أَخْرَجْنَا لَهُمْ دَابَّةً مِّنَ الْأَرْضِ
تُكَلِّمُهُمْ أَنَّ النَّاسَ كَانُوا بِآيَاتِنَا لَا يُوقِنُونَ ۝٨٢

او کله چه واقع ثابت شی خبر د عذاب پر دغو (بنی آدمانو او نژدی شی قیامت پر دوی) نو راوبه باسو مونږ دوی ته یوه دابه (ژوندی خوځیدونکی تلونکی) له ځمکی چه خبری کوی دغه (دابه) له دوی سره چه بیشکه دا خلق ؤ چه په دلائلو (د قدرت الوهیت) ځمونږ به ئی یقین نه کاوه.

**تفسیر:** موضح القرآن لیکی «پخوا له قیامته به په مکه معظمه کښې د صفا غر وچوی او له هغه ځخه به یو ژوندی خوځیدونکی ووځی چه له خلقو سره به خبری کوی چه اوس قیامت نژدی دی. او صادق مؤمن به له کاذب منکر ځخه په نښه کولو سره بیلوی» له ځینو روایاتو ځنی معلومیږی چه دغه به بالکل په آخره زمانه کښې په هغه ورځ واقع کیږی چه لمر له مغربه وخیژی نو قیامت د هم دغی ورځی نوم دی چه د ټولی دنیا ګرد (ټول) موجوده نظام به په کښې ګډوډ او خرابیږی نو د داسی خوارقو په وقوع کښې هیڅ تعجب نه دی پکار چه د قیامت د قریبه ؤ علاماتو او د دی مقدمې په شان ظاهرولی شی. ښائی د «دابة الارض» په ذریعه د دی خبری ښودنه مقصود وی هغه خبره چه تاسی د یو رسول په ژبه نه منله نن مجبور یئ چه د یوه حیوان په ژبه ئې ومنئ ! مګر د دغه وقت منل تاسی ته مفید او نافع نه دی او له دغه ځخه یوائې د مکذبینو تجهیل او تحمیق مطلوب دی چه د منلو وقت تیر شو.

**تنبیه:** د «دابة الارض» په نسبت ډیر رطب او یابس اقوال او روایات په تفاسیرو کښې درج شوی دی ـ مګر د معتبرو روایاتو له مخی هم دغومره خبره ثابته شوی ده چه موضح القرآن لیکلی ده والله اعلم.

---

وَيَوْمَ نَحْشُرُ مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ فَوْجًا مِّمَّنْ يُكَذِّبُ بِآيَاتِنَا فَهُمْ يُوزَعُونَ ﴿۸۳﴾

---

او (یاده کړه) هغه ورځ چه ژوندی به راپورته کړو له (قبورو د) هر امت (فرقی) ځخه یو فوج (چه اشراف او رؤسا دی) له هغو (منکرانو) چه تکذیب کوی په آیاتونو ځمونږ پس د دوی جماعتونه به سره یو ځای کیږی بیا روانیږی.

---

**تفسیر:** د هر ګناه کوونکی ټولنه او لښکر به سره بیل وی.

**تنبیه:** عموماً مفسرینو د «فهم یوزعون» معنی په ستنولو (واپس کولو) سره کړی ده ـ یعنی د هر امت مکذبان به د محشر په طرف بیول کیږی او دوی به دغومره ډیر او زیات وی چه وړاندی تلونکی خلق به د وروستنیو مخه بندوی او له مخکښې تللو ځخه به ئې ستنوی (واپس کوی) ـ لکه چه په لوی بیروبار او ازدحام کښې د انتظام د ټینګ ساتلو لپاره هم داسی وضعیت غوره او اختیارولی شی.

حَتّٰىٓ اِذَا جَآءُوْ قَالَ اَكَذَّبْتُمْ بِاٰيٰتِيْ وَلَمْ تُحِيْطُوْا بِهَا عِلْمًا اَمَّاذَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٨٤﴾

تر هغه پورې چه راشي دوی (تول محشر ته) نو وبه فرمائی (ورته الله) آیا تکذیب کړی ؤ تاسی د آیاتونو څما حال دا چه احاطه نه وه کړئ تاسی په هغو (آیاتونو) له جهته د علمه آیا څه شی دی هغه چه وئ تاسی چه کاوه به مو (هغه له مامور به څخه ؟ وواییئ!)

**تفسیر:** یعنی زیار (محنت) ئی ونه کړو ـ او کوشش ئی ونه کړ چه په پوره ډول (طریقه) به پری پوهیدل او تمامو اطرافو او جوانبو ته به ئی کتل ابتداء ئی د هغه په تکذیب خوله وسپړده «یا وواییئ! که داسی نه دی نو نور مو څه کول؟ یعنی ماسواء له دی نه ستاسی بل څه کار ؤ ؟ امکان لری چه مطلب ئی داسی وی چه بی له غوره او فکر کولو څخه تاسی هم داسی د هغه تکذیب کړی ؤ ؟ یا وواَئی ؟! چه ماسواء له دی نه تاسی نوری څه گناه هم د خپلو ځانونو لپاره تولی کړی وی.

وَوَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ بِمَا ظَلَمُوْا فَهُمْ لَا يَنْطِقُوْنَ ﴿٨٥﴾

او واقع ثابته به شی خبره (د عذاب) پر دغو (منکرانو) باندی په سبب د هغه چه ظلم ئی کړی ؤ پس دوی به هیڅ خبری نشی کولی (په عذر خواهی له جهته د عذاب لامتناهی)

**تفسیر:** یعنی د دوی د شرارتونو یقینی ثبوت وشو ـ او د الله تعالیٰ حجت پر دوی تمام شو، اوس وروسته له دی نه به دوی څه ویلی شی ؟ باقی به ځینو نورو آیاتونو کښی چه د دوی عذر او پلمی (تدبیرونه) مذکور دی ښائی هغه به پخوا له دی نه شوی وی. په هر حال دغه نفی او اثبات دی د مواطنو او د مواقفو پر اختلاف حمل کړی شی.

اَلَمْ يَرَوْا اَنَّا جَعَلْنَا الَّيْلَ لِيَسْكُنُوْا فِيْهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ۗ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٨٦﴾

آیا نه وینی دا (منکران د حشر) چه بیشکه مونږ ګرځولی مو ده شپه (توره تیاره) لپاره د دی چه آرام وکړی دوی پکښی او (ګرځولی مو ده) ورځ لیدونکی (تکه سپینه روښانه چه کسب و کار په کښی وکړی) بیشکه په دغه (تعاقب د لیل او نهار) کښی خامخا دلائل (د قدرت او عبرت) دی دپاره د (هغه) قوم چه ایمان راوړی.

**تفسیر:** یعنی څرنګه ښکاره دلائل او واضحی نښی الله تعالیٰ په دنیا کښی دوی ته وروښودی خو دوی لږ څه هم پر هغو فکر او غور ونه کړ ـ که یواځی د شپی او د ورځی پر دغه دائمی تبدیل او تحویل او نورو اختلافاتو دوی خپل افکار چلولی او پری غور او خوض ئی کولی نو د الله تعالیٰ پر توحید ـ د انبیاؤ پر ضرورت او اهمیت او پر بعث بعد الموت پر ګردو (تولو) شیانو به دوی پوهیدل چه بالاخر هغه کوم یو ذات دی چه په داسی مضبوط او محکم انتظام سره برابر وروسته له ورځی شخه شپه او د شپی څخه ورځ راښکاره کوی او ځمونږ د ظاهری بصارت لپاره وروسته د شپی له تیارو د ورځی رڼا (رنړا) خوروی. نو آیا دغسی یو مطلق قادر ځمونږ د باطنی بصیرت دپاره د اوهامو او اهواؤ په تیارو کښی د معرفت او هدایت رڼا (رنړا) نه ده رالیږلی ؟ بیا نو شپه څه شی ده د ویدیلو وقت دی! چه مونږ هغی ته د موت یوه نمونه ویلی شو چه وروسته له هغه ورځ راځی او بیا سترګی په کښی غړیږی ـ او یو طرف بل طرف ته په کښی ګرځو. هم داسی الله تعالیٰ پر مونږ موت هم طاری کوی او وروسته له مرګه مو بیا هم داسی ژوندی راپاڅوی نو په هغه کښی څه اشکال او استحاله شته ؟ الغرض د یقین کوونکیو لپاره په هم دغی یوی نښی کښی د ګردو (تولو) ضروریه ؤ شیانو د حل لپاره اسباب موجود دی.

وَيَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ فَفَزِعَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ اِلَّا مَنْ
شَآءَ اللّٰهُ ؕ وَكُلٌّ اَتَوْهُ دٰخِرِيْنَ ﴿٨٧﴾ وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَّهِيَ تَمُرُّ مَرَّ
السَّحَابِ ؕ صُنْعَ اللّٰهِ الَّذِيْٓ اَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ ؕ اِنَّهٗ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَفْعَلُوْنَ ﴿٨٨﴾
مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ خَيْرٌ مِّنْهَا ۚ وَهُمْ مِّنْ فَزَعٍ يَّوْمَئِذٍ اٰمِنُوْنَ ﴿٨٩﴾ وَمَنْ جَآءَ
بِالسَّيِّئَةِ فَكُبَّتْ وُجُوْهُهُمْ فِي النَّارِ ؕ هَلْ تُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٩٠﴾

او (یاده کړه) هغه ورځ چه پوکی وکړ شی په صور (شپیلی) کښی نو ویریږی (له ډیره هیبته) هر هغه څوک چه په آسمانونو کښی دی او هر هغه څوک چه په ځمکه کښی دی مګر هغه څوک چه اراده وفرمائی الله (د نه ویریدلو د هغه) او ټول به راشی د دغه (الله په حضور په قیامت کښی) عاجزان او وینی به ته غرونه (په قیامت کښی) ګمان به کوی ته پر هغو چه کلک ولاړ دی (له جهته د لویوالی) حال دا چه دوی به ځی تیریږی پشان د وریځی کاریګری د الله (یا وکړ الله دا کار په کولو سره) هغه (الله) چه محکم (درست) کړی ئی دی هر شیز (چه پیدا کړی ئی دی) بیشکه چه دغه (الله) ښه خبردار دی په هغو کارو چه کوئ یی تاسی هر هغه څوک چه راشی په حسنه (نیکی) سره (چه کلمه د توحید ده) پس شته ده ته (جزاء) بهتر غوره له هغه او دوی به له سختی ویری د دغی ورځی په امان وی. او هر هغه څوک چه راشی په سیئه (بدی شرک سره) پس نسکور به وغورځول شی مخونه د دوی په اور (د دوزخ کښی او وبه ویل شی دوی ته له جانبه د الله) آیا جزاء درکوله کیږی (بلکه نه درکوله کیږی) مګر (جزاء د شرک او نور معاصی) هغه چه وئ تاسی چه کول به مو (په دنیا کښی).

---

**تفسیر**: د صور (شپیلئ) یو کوونکی پرښته حضرت اسرافیل علیه السلام دی چه د الله تعالیٰ د حکم په انتظار کښی د صور د پوکولو لپاره تیار ولاړ دی.

په ځینو روایاتو کښی راغلی دی چه ﴿إِلَّا مَن شَاءَ اللَّهُ﴾ حضرات جبرئیل ـ میکائیل ـ عزرائیل علیهم السلام دی. ځینی د دی مصداق شهداء بولی والله اعلم.

(موضح القرآن) لیکی یو ځلی صور پوکلی کیږی چه د هغه په اثر به ګرد (ټول) مخلوق سره مری. دوهم صور چه وپوکلی شی د هغه په اثر ټول مری بیا له سره ژوندی کیږی ـ دریم صور چه وپوکلی شی دوی ګرد (ټول) ویریږی. په څلورم کښی ګرد (ټول) بیهوشه کیږی. په پنځم کښی بیا په هوش کیږی. د صور پوکل به څو څو ځلی صورت نیسی. اکثر علماء یواځی هم دغه دوی نفخی منی ـ یعنی ګرد (ټول) سره فقط دوه ځلی صور پوکلی کیږی او دغه ګرد (ټول) احوال او اهوال د هم دغو دوو شپیلو لاندی درجوی والله اعلم.

﴿ وَتَرَى الْجِبَالَ ﴾ الآیة ـ  او وینی به ته غرونه په قیامت کښی ګمان به کوی ته پر هغو چه کلک ولاړ دی له جهته د لویوالی حال دا چه دوی به تیریږی پشان د وریځی یعنی دغه لوی لوی غرونه چه تاسی ئی اوس وینئ او د دی خیال کوئ چه دغه به تل پر ځمکه کلک ولاړ وی او له سره به له خپله ځایه نه ښوریږی ـ دغه ګرده (ټوله) به د قیامت په ورځ کښی د تکول شویو رنګینو وړو پشان به فضاء او هواء کښی الوځی او ګرځی او د وریځو په شان به ژر ژر درومی لکه چه د

جزء ٢٧ «الواقعة» په اوله ركوع ٥ - ٦ آيت كښې داسې يو آيت لولو ﴿ وَبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا فَكَانَتْ هَبَاءً مُّنبَثًّا ﴾ او په «القارعة» كښې لولو ﴿ وَتَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنفُوشِ ﴾ او د جزء ١٦ «طٰهٰ» په (٦) ركوع ١٠٥ آيت كښې وايو ﴿ فَقُلْ يَنسِفُهَا رَبِّي نَسْفًا ﴾

**تنبيه:** د دغه آيت هيڅ تعلق د ځمكې د حركت او سكون سره نشته لكه چه ځينې متنورين له هغه ځنې پوهيدلي دي.

﴿ صُنْعَ اللَّهِ الَّذِي أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ ﴾ كاريگرى د الله يا وكړ الله دا كار په كولو سره هغه الله چه محكم درست كړى ئې دى هر څيز چه پيدا كړى ئې دى).

يعنې هغه ذات چه هر شى ئې په نهايت حكمت سره درست كړ، هغه الله تعالىٰ چه نن ئې دغه غرونه داسې درانه او مضبوط جوړ او درولي دي هم هغه الله تعالىٰ به يوه ورځ دوى بخركې بخركې او دړې وړې كوى - او ترې دوړې به جوړوى - او په هواء به يې الوځوى. دغه د غرونو الوځول به د خرابۍ او تباهۍ په غرض نه وى بلكه د عالم په نظام كښې به سره لاندې باندې او لازمه تعديلات كوى - او په همغه درجه ئې رسوى چه د هغه لپاره ئې پيدا كړى دى نو دغه گرد (تول) به د هغه حقيقي صانع صنعت او كاريگرى وى چه د هغه هيڅ يو تصرف له حكمت څخه تش نه دى.

﴿ إِنَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَفْعَلُونَ ﴾ بيشكه چه دغه الله ښه خبردار دى په هغو كارونو چه كوئ ئې تاسى) يعنې وروسته له دغو ماتولو او څيرولو او عظيمه ؤ انقلاباتو څخه بيا د بندگانو حساب او كتاب شروع كيږى كله چه الله تعالىٰ د بندگانو تر ذرى ذرى پورى اعمالو څخه هم خبير او عليم دى نو هر يوه ته به سم د ده له عمله سره جزاء وركوله كيږى - نه به پر چا ظلم كيږى - او نه به د چا حق تلف شى. وروسته له دى نه د هم دى خبرى لږ تفصيل بيانيږى چه هر هغه څوك چه راشى په حسنه نيكى سره چه كلمه د توحيد ده پس شته ده ته جزاء خير بهتر غوره له هغه يعنې د يوى نيكۍ بدل اقلا د لسو نيكيو په حساب وركول كيږى چه دغه مكافات له سره ختم كيدونكي نه دى. او دوى به له سختى ويرى د دغى ورځى په امان وى يعنې له ډيرى ويرى كما قال الله تعالىٰ في ركوع (٧) ١٠٣ آيت من سورة «الانبياء» جزء ١٧ ﴿ لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْأَكْبَرُ ﴾ او كه ويره به لږ اندازه وى نو له دغه آيت سره هيڅ منافى نه ده.

﴿ فَكُبَّتْ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ ﴾ الآية - پس نسكور به وغورځولى شى مخونه د دوى په اور د دوزخ كښې او وبه ويل شى دوى ته له جانبه د الله آيا جزاء دركوله كيږى بلكه نه دركوله كيږى مگر هغه چه وئ تاسى په دنيا كښې چه كول به مو چه كفر او نور معاصى دى) يعنې د الله تعالىٰ له طرفه هيڅ زيادت او تيرى پرى نه كيږى څه ئې چه كړلى وى هم هغه به رببى او له خپلو كړو څخه به سرى څه شكايت كوى.

إِنَّمَا أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ رَبَّ هَٰذِهِ الْبَلْدَةِ الَّذِي حَرَّمَهَا وَلَهُ كُلُّ شَيْءٍ

بیشکه هم دا خبره ده چه امر (حکم) کړی شوی دی ماته داسی چه عبادت کوم د رب د دی بلدی (ښار) هغه (الله) چه حرمت (عزت) ورکړی دی دی (ښار د مکی ته په امن سره) او خاص هم دغه الله لره دی ملکاً ، خلقاً و عبیداً) هر شی

**تفسیر:** له بلده او ښار څخه مراد مکه معظمه ده چه الله تعالیٰ هغی ته خاص تعظیم ـ تحریم او تکریم ورپه برخه کړی دی نو د دغه تخصیص او تشریف په سبب د رب اضافت د هغی په طرف وکړ شو که نه الله تعالیٰ خو د ګردو (تولو) شیانو رب او مالک دی.

وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿٩١﴾

او امر (حکم) کړی شوی دی ماته داسی چه شم زه له مسلمانانو (غاړه ایښودونکیو الله ته)

**تفسیر:** یعنی په هغو خلقو کښی محسوب شم چه د پاک الله کامل حکم منونکی او فرمان وړونی دی او بیخی ئی خپل ځانونه ورسپارلی دی.

وَأَنْ أَتْلُوَا الْقُرْآنَ ۖ فَمَنِ اهْتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهْتَدِي لِنَفْسِهِ ۖ وَمَن ضَلَّ فَقُلْ إِنَّمَا أَنَا مِنَ الْمُنذِرِينَ ﴿٩٢﴾

او (بل مامور یم) په دی چه ولولم قرآن (پر تاسو وائی وروم خلقو ته) پس هر چا چه سمه صافه لاره وموندله پس بیشکه هم دا خبره ده چه سمه صافه لاره ئی وموندله دپاره د ځان (او فائدی خپلی) او هر څوک چه ګمراه شو پس ووایه (ای محمده ! ده ته) بیشکه هم دا خبره ده چه زه له ویرووونکیو څخه یم.

**تفسیر:** یعنی زه بالذات هم د الله تعالیٰ بندګی او فرمان برداری کوم او نورو ته هم د الله تعالیٰ دغه عظیم‌الشان قرآن آوروم او د هدایت سمه صافه لاره خلقو ته ورښیم پس هر څوک چه لاره ئی

ومونډله له جهته د متابعت ځما توحيد د الله او نفي د شرکاؤ ته پس بيشکه هم دا خبره ده چه لاره ئې ومونډله دپاره د ځان خپل ځکه چه نفع ئې هم ده ته راجع ده او هر څوک چه ګمراه شو له جهته د مخالفت ځما پس ووايه ورته چه بيشکه هم دا خبره ده چه زه له ويرووونکيو يم او پر ما غير له پيغام رسولو بل هيڅ نشته او وبال د ضلال د بل چا پر ما نه لويږی يعنی ما خپل پند او نصيحت کړی دی او له دغه تبليغه مې ځان فارغ‌الذمه ګرځولی دی که تاسو نه پوهيږئ يا ځان پرې نه پوهوئ نو په دغه کښې ستاسو نقصان دی. او دغه احکام پخوا له امر د قتال ؤ

وَقُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ سَيُرِيكُمْ آيَاتِهِ فَتَعْرِفُونَهَا ۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٩٣﴾

او ووايه (ای محمده!) چه ګردی (تولی) ثناوی ستاينې (صفتونه) (خاص) الله ته دی (په دغه نعمت د علم او نبوت) ژر به وښيي (الله) تاسی ته دلائل (د قدرت خپل) پس وبه پيژنئ تاسی هغه (دلائل) او نه دی رب (پالونکی) د تا غافل (بيخبره) له هغو عملونو نه چه کوئ ئې تاسی (ای مشرکانو نو جزاء به ورکړی هر چا ته د ده له عمله سره سمه)

**تفسير:** يعنی الله تعالیٰ ته په زړهاؤ ځلی د حمد او شکر ځای دی چه زه ئې هادی او مهتدی ګرځولی يم فی‌الحقيقت د تعريف لائق هم هغه لوی او مقدس ذات دی. هر چا ته هر هغه ښيګنې (فائدی) يا کمال چه ور په برخه شوی دی د ده له لطف او مرحمت څخه دی ژر به وښيي الله تاسی ته دلائل د قدرت خپل پس وبه پيژنئ تاسی هغه دلائل يعنی وروسته له دی نه الله تعالیٰ ستاسی په منځ کښې يا د باندی د خپل قدرت هغه نمونی او ځما د صداقت داسی ښکاره دلائل به درښيي چه د هغو په ليدلو سره به تاسی وپوهيږئ چه بيشکه دغه د الله تعالیٰ هغه آيات دی چه د هغو اطلاع مونږ ته رسول الله صلی الله عليه وسلم راکړی وه. باقی د هغه وخت پوهيدل آيا تاسو ته نافع واقع کيږی؟ که نه؟ دغه بيله خبره ده. د قيامت علامات او نور ګرد (تول) تر دغه لاندی راغلل او نه دی رب پالونکی د تا غافل بيخبره له هغو عملونو نه چه کوئ ئې تاسی ای مشرکانو! يعنی هغه عمل او معامله چه تاسی ئې کوئ هغه ګرد (تول) د الله تعالیٰ تر نظر لاندی دی بالآخر سم له هغه سره تاسی ته د هغو بدل درکوی که په سزا او نورو کښې څه تأخير او ډيل پيښ شی نو داسی ئې مه ګڼئ چه الله تعالیٰ ځمونږ له اعمالو څخه غافل او بيخبره دی.

تمت سورة النمل ولله الحمد والمنة

سورة «القصص» مكية الا من آية (٥٢) الى غاية (٥٥) فمدنية و آية(٨٥) فبالجحفة اثناء الهجرة
وهى (٨٨) آية وتسع ركوعات رقمها (٢٨) تسلسلهاحسب النزول (٤٩) نزلت بعد «النمل»
د «القصص» سورت «مکی» دی پرته (علاوه) له (٥٢) تر (٥٥) آیتونو پوری چه «مدنی» دی
او له (٨٥)
آیت څخه چه په جحفه کښی د هجرت په اثناء کښی نازل شوی دی (٨٨) آیات (٩) رکوع لری
په
تلاوت کښی (٢٨) او په نزول کښی (٤٩) سورت دی وروسته د «النمل» له سورت څخه نازل
شوی دی

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع) په نامه د الله چه خورا (ډیر) مهربان ډیر رحم والا دی.

طٰسٓمٓ ① تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ② نَتْلُوْا عَلَيْكَ مِنْ نَّبَاِ
مُوْسٰى وَفِرْعَوْنَ بِالْحَقِّ لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ③

دا (آیتونه د دی سورت) آیتونه د کتاب مبین (ښکاره) دی (چه خیر او برکت ئی ښکاره او د حق او د باطل بیلوونکی دی). لولؤ مونږ پر تا (ای محمده!) له (ځینو) خبرو د موسٰی او د فرعون په حقه (ربښتیا) سره دپاره د (هغه) قوم چه ایمان راوړی.

**تفسیر:** یعنی مسلمان خلق دی خپل حال قیاس کړی! (موضح) د ظالمانو په مقابل کښی څرنگه چه د حضرت موسٰی علیه السلام په ذریعه الله تعالٰی بنی اسرآئیل سره له ضعف او کمزوری د فرعونیانو په مقابل کښی منصور او مظفر وګرځول هم داسی مسلمانانو ته هم اګر که نن په مکی معظمی کښی قلیل ـ ضعیف او ناتوانه په نظر راځی د دوی د بیشمارو زورورو اعداؤ په مقابل کښی بری او کامیابی ور په برخه کوی.

اِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِي الْاَرْضِ وَجَعَلَ اَهْلَهَا شِيَعًا يَّسْتَضْعِفُ طَآئِفَةً مِّنْهُمْ

بیشکه چه فرعون لوئی (او تکبر) غوره کړی ؤ په ځمکه (د مصر) کښی او ګرځولی ئی ؤ اهل د دغه (مصر) تولی تولی چه ضعیفه (مقهوره) کړی ئی وه یوه طائفه له دوی (چه بنی اسرآئیل ؤ)

**تفسیر:** یعنی په مصر کښی قبطیان ودان وو چه د فرعون له قوم څخه ؤ او سبطیان هم اوسیدل چه په بنی اسرآئیلو سره مشهور ؤ لیکن فرعون به د ظلم او تکبر له لاری بنی اسرآئیلو ته فرصت او موقع نه ورکوله چه دوی ترقی وکړی او په هوسائی (راحت) او آرام سره دده ولګوی ګواکی ګرد (تول) قبطیان سرداران او آغایان ګرځیدلی ؤ او د انبیاؤ اولاد بنی اسرآئیل ئی خپل غلامان او نوکران ګرځولی ؤ ـ او پر دوی به ئی دیر ذلیل کارونه او سخته بیګاری اجرا کوله او په هیڅ دول (طریقه) ئی نه پریښوده چه دوی په مملکت کښی قوت او وقعت حاصل کړی.

يُذَبِّحُ أَبْنَآءَهُمْ وَيَسْتَحْيِۦ نِسَآءَهُمْ ۚ

چه وژل به ئی ځامن د دوی (چه نسل ئی منقطع شی) او ژوندی به ئی پریښودی ښځی (جنکیانی) د دوی (خپل خدمت ته)

**تفسیر:** مفسرین وائی چه فرعون یو خوب ولید چه کاهنانو د هغه تعبیر داسی وکړ چه «د کوم داسی بنی اسرآئیلی هلک له لاسه به ستا دغه سلطنت تباه او بربادیږی چه لا تر اوسه نه دی ځیږیدلی» نو ځکه فرعون د دغی پیښی د مخی نیولو په قصد دغه د ظلم او حماقت تدبیر له خپله ځانه وویست چه د تل دپاره بنی اسرآئیلیان مغلوب مقهور او ذلیل وساتی څو په دوی کښی داسی کوم قوت او قدرت پیدا نشی چه له هغه څخه د بغاوت او شرارت کومه اندیښنه متصوره وی ـ او داسی امر ئی صادر کړ ـ «وروسته له دی نه هومره بنی اسرآئیلی هلکان چه پیدا کیږی دوی دی د یوی مخی څخه ووژلی شی! او په دغه ترتیب دی د راتلونکی مصیبت او خطری مخه په ښه شان سره ونیوله شی کله چه قبطیانو ته د سبطیانو د جونو له خوا داسی کومه خطره نشته نو دوی دی ژوندی پریښودی شی څو وروسته له پیغلتوبه له هغوی څخه قبطیان د وینځو په شان کار واخلی ـ ابن کثیر رحمة الله علیه لیکی چه بنی اسرائیلو پخپل منځ کښی د حضرت ابراهیم خلیل الله علیه السلام د یو پخوا ویلو تذکره کوله چه په هغه کښی داسی یوه تذکره شوی وه چه «د یوه بنی اسرآئیلی ځلمی له لاسه د مصر د دغه سلطنت تباهی او خرابی مقدره ده» دغه خبره ورو ورو او متدرجاً د فرعون غوږ ته ورسیده او هغه احمق د دغه قضاء او قدر د انسداد لپاره دغه اصول او فوق العاده احکام صادر کړل.

إِنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ ۝٤

بیشکه ؤ دغه (فرعون) له مفسدانو (چه راز راز (قسم قسم) فسادونه به ئی کول).

**تفسیر:** یعنی فرعون خو بالطبع په ځمکه کښې خرابی غورځوونکی ؤ نو ځکه د داسی لوی ظلم او ستم څخه له سره نه لړځیده او نه ئی زړه خوږیده پس هر شی به چه د ده په زړه کښې راته هم هغه به ئی اجراء کول او خپل د کبر او غرور په نشه کښې داسی مست او بیهوشه ؤ چه بی له غور، فکر او اندیښنی او وړاندی او وروسته کتلو څخه به ئی هر شی کول.

وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ ۝٥ وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ

او اراده وکړه مونږ د دی چه منت احسان کیږدو پر هغو کسانو چه ضعیفان کړی شوی وو په ځمکه (د مصر) کښې او چه وګرځوو مونږ دوی امامان (د دارینو مقتدایان) او وګرځوو مونږ دوی وارثان (د ملک د فرعون) او چه قدرت ورکړو مونږ دوی ته په ځمکه (د مصر او شام) کښې.

**تفسیر:** یعنی د دغه ملعون انتظامات خو هغه ؤ او ځمونږ اراده داسی وه چه کمزوران زوروړ کړو او ټیټ مخلوق هسک (اوچت) کړو او د هغه قوم پر سر د دینی امامت او دنیوی سیادت تاج کیږدو چه د فرعون او فرعونیانو له لوری ذلیل حقیر او مریان شوی ؤ - او له هغو ظالمانو او متکبرانو څخه هغه ځمکه پاکه او صافه کړو - او دغه مظلوم او ربړ (تکلیف) موندونکی قوم د دوی په ځای ودان کړو - او د دینی سیادت سره دنیوی حکومت هم دغه مقهور او مظلوم قوم ته وروسپارو.

وَنُرِيَ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ

او چه وښیو فرعون او هامان (وزیر ته ئی)

**تفسیر:** هامان د فرعون وزیر او د ده په ظلم او ستم او تیری کښې له ده سره شریک او د ده د کار آله او د لاس د یوی همسا په شان ؤ.

وَجُنُودَهُمَا مِنْهُم مَّا كَانُوا يَحْذَرُونَ ﴿٦﴾

او لښکرو د دغو دواړو ته له دغو (بنی اسرآئیلو نه) هغه شی چه ؤ دوی چه ویریدل (به تری چه زوال د قوت او سلطنت د قبطیانو دی).

**تفسیر:** یعنی د هغی خطری لامله (له وجی) چه دغو قبطیانو د سبطیانو پر زرهاؤ معصوم هلکان وژلی ؤ مونږ اراده وفرمایله چه هم هغه خطره وردمخه کړو فرعون خپل ګرد (تول) امکانی کوشش او زیار (محنت) پکار واچولو ـ او پوره زور او قوت ئی ولګوه چه په هیڅ صورت هغه بنی اسرآئیلی هلک چه د هغه له لاسه د ده سلطنت تباه کیږی مصئون او مأمون پاتی نشی ـ او فرعون د ده له شره ساتلی وی مګر کله چه د الله تعالیٰ تقدیر قاطع او د ده د ارادی په مقابل کښی هیڅ مانع نشی دریدی نو هم هغه معهود هلک ئی د ده په غیږ کښی وپاله او د دوی په وسیله ئی وساته ـ او د هم هغه فرعون په شاهی بستره او په پاچاهی مانی کښی ئی په ډیر ناز او نعمت لوی کړ او دغه یی علی رؤس الاشهاد ثابت او محقق کړ د هر هغه کار او انتظام اراده چه الله تعالیٰ وفرمائی ـ هیڅ یو قوت او قدرت د هغه په انسداد کښی نه موفق کیږی.

د پاک الله ډیوه لګیږی به تل ▪ څوک چه ئی پو کری دی سوځیږی به تل

وَأَوْحَيْنَا إِلَىٰ أُمِّ مُوسَىٰ أَنْ أَرْضِعِيهِ ۖ فَإِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ فَأَلْقِيهِ فِي الْيَمِّ

او وحی (الهام) وکړ مونږ مور د موسیٰ ته داسی چه تی ورکوه ته دغه (موسیٰ) ته نو کله چه وویریدی ته (په ده) پس وغورځوه دغه (موسیٰ سره له تابوته) په سیند کښی.

**تفسیر:** د موسیٰ علیه السلام مور ته یا الهام وشو یا ئی په خوب ولید یا په بله کومه ذریعه ورمعلومه شوه څو چه تاته خپل د دی هلک د وژلو ویره او اندیښنه نه وی پیدا شوی په منظم ډول (طریقه) سره ئی وپاله! او تی ورته ورکوه! کله چه د وژلو ویره درته پیدا شی نو په یوه صندوق کښی ئی تابوت کړه او د نیل په سیند کښی ئی لاهو کړه دغه قصه د «طٰهٰ» په سورت کښی هم لیکلی شوی ده.

وَلَا تَخَافِي وَلَا تَحْزَنِي ۚ إِنَّا رَادُّوهُ إِلَيْكِ وَجَاعِلُوهُ مِنَ الْمُرْسَلِينَ ۞

او مه ویریږه ته (له غرق ئی) او مه خفه کیږه ته (له بیلتون ئی) بیشکه چه مونږ بیرته راوستونکی یو د دغه (موسیٰ) تاته او (بیا) گرځوونکی یو د دغه (موسیٰ) له مرسلانو (پیغمبرانو).

**تفسیر:** یعنی مور ته ئی دادینه او تسلی ورکړه شوه چه مه ویریږه او بی له کوم تردد او اندیښنی ئی په سیند کښی لاهو کړه! ستا دغه هلک له سره نه ضائع کیږی او د خپل څوی د دغه بیلتون څخه هم مه خفه کیږه! چه مونږ ئی ډیر ژر بیرته ستا غیږی ته درولو ـ او د پاک الله اراده په دی خبره تللی ده چه له دی نه یو ډیر لوی کار واخلی او د رسالت په منصب ئی افتخار وبښی او هیڅ یو قوت او طاقت د الله تعالیٰ د ارادی په مخ کښی حائل او مانع نشی کیدی ـ او دغه گرد (ټول) موانع به له منځه لری کیږی او دغه مقدس مقصد هرومرو (خامخا) پوره کیدونکی دی چه د دغه محترم مولود له وجوده سره متعلق دی.

فَالْتَقَطَهُ آلُ فِرْعَوْنَ لِيَكُونَ لَهُمْ عَدُوًّا وَحَزَنًا ۗ إِنَّ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَجُنُودَهُمَا كَانُوا خَاطِئِينَ ۞

پس وموند دغه (او ونیو تابوت د موسیٰ) کورنی د فرعون دپاره د دی چه شی دغو (فرعونیانو) ته دښمن او (سبب د) غم بیشکه چه فرعون او هامان (وزیر ئی) او لښکری د دغو دواړو وو (دا ټول) خطاکاران

**تفسیر:** مور ئی خپل هلک د لرگیو یوه صندوق کښی وغورځوه او د سیند په اوبو کښی ئی خوشی کړ ـ صندوق د اوبو د جریان په متابعت په داسی یوی ویالی کښی لاړ چه د فرعون په باغ کښی تیریده او هلته د میرمنی آسیی رضی الله تعالیٰ عنها د فرعون د ښځی په لاس کښی ولوید میرمنی آسیی رضی الله تعالیٰ عنها ته د دغه ښکلی هلک ښکلی صورت ډیر ښه په نظر ورغی او د ده په وچولی (تندی) کښی د نجابت او شرافت آثار ورښکاره شول نو ئی د پاللو په غرض راپورته کړ. مگر د دی پورته کولو آخری نتیجه داسی شوه چه دغه ووړکی لوی شو او د فرعون او د فرعونیانو سخت مخالف او دښمن ثابت شو ـ او د دوی په حق کښی د روح د

سوهان په شان عیان شو. نو ځکه الله تعالیٰ هغوی ته موقع ورکړه چه دی راپورته کړی. لعین فرعون له دی څخه څه خبر ؤ د هغه دښمن له ویری چه زه په زرهاؤ معصوم هلکان وژنم، هغه هم دغه هلک دی چه نن په ډیر ناز او نعمت سره ځمونږ په لاسو د هغه پالنه او روزنه کیږی فی‌الحقیقت فرعون او د ده ګرد (تول) وزیران ـ مشیران او نور د دغه ناپاکه مقصد په اعتبار سخت وغولیدل چه بیشماره اسرآئیلی هلکان ئی پر دغه شبهه ووژل مګر یواځی موسیٰ علیه السلام ئی ژوندی پریښود لپاره د دی چه دغه موسیٰ هغو فرعونیانو ته دښمن شی نارینه ؤ لره چه سبب د غرقیدلو د دوی به شی او غم شځو ته چه وینځی به ئی شی. او دغه لام د عاقبت دی یعنی عاقبت د دی نیولو او ژوندی پریښودلو به دغه دواړه کارونه شی.

لیکن که دوی نه تیروتل نو څه به ئی کول ـ آیا د دوی له لاسه دغه خبره پوره وه چه د الله تعالیٰ تقدیر په دغه تدبیر سره واړوی ؟ د دوی ډیره لویه خطاء تیرواته او سهو په دی کښی ؤ چه دوی غوښتل د قضاء او د قدر فیصلی په انسانی تدابیرو سره ماتی کړی او مخه ئی ونیسی.

---

وَقَالَتِ امْرَاَتُ فِرْعَوْنَ قُرَّتُ عَيْنٍ لِّيْ وَلَكَ ؕ

---

او وویل ښځی د فرعون (آسیی چه دغه هلک) یخوالی د سترګو دی ماته او تاته.

---

**تفسیر:** یعنی ښومره ښکلی ، ګلالی او په زړه پوری هلک دی مونږ هلک نه لرو راځئ ! چه له ده سره خپل فهم غلط کړو او سترګی پری رڼی او زړونه مو خوښ کړو. په ځینو روایاتو کښی راغلی دی چه فرعون وویل « لک لا لی» یعنی ستا د سترګو لپاره به رڼا (رڼرا) او یخوالی وی نه ځما لپاره لکه چه ازلی تقدیر دغه الفاظ د دغه ملعون له ژبی څخه وویستل چه بالاخر هم هغسی هم وشو.

---

لَا تَقْتُلُوْهُ ۖ عَسٰۤی اَنْ يَّنْفَعَنَاۤ اَوْ نَتَّخِذَهٗ وَلَدًا

---

مه وژنئ دغه (هلک) ښائی چه نفع به راورسوی مونږ ته یا به ونیسو دی ځوی.

---

**تفسیر:** یعنی کله چه لوی شی ځمونږ په کار به راشی او که مو مناسب وګانه نو به ئی خپل متبنی وګرځوو.

---

وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ۝۹

حال دا چه دوی نه پوهيدل (پر دغه سبب د هلاک خپل).

**تفسير:** يعني له دی نه خو نه ؤ خبر کله چه دی لوی شی نو څه څه کارونه به وکړی ؟ او دوی داسی وپوهيدل چه دغه هلک کوم بنی اسرآئيلی له ويری ښځه په اوبو کښی غورځولی دی ښه که مونږ هم دغه يو هلک ونه وژنو نو په دغه کښی به کوم يو لوی نقصان متصور وی ؟ آيا دغه خبره خو ضروری نه ده چه هم دغه هلک به هم هغه ځمونږ معهود دښمن وی چه مونږ تری انديښنه لرو بيا چه ئی کله مونږ وپالو نو دی به څرنگه ځمونږ په خلاف څه اقدام وکړی ؟ او دغه به څرنگه ممکن وی چه دغه ځمونږ روزلی او پاللی شوی هلک به له مونږ سره دښمنی وکړی ؟ دوی له دی نه نه ؤ خبر چه دغه هلک به له هغه لوی ذات سره زياته دوستی کوی چه د ګرد (تول) جهان رب او پالونکی دی او کله چه تاسی د هغه رب العالمين دښمنان يئ نو ځکه دی به مجبور وی چه د هغه حقيقی رب العالمين په حکم ستاسی سره مخالفت وکړی تاسی پر خپل دغه ظاهری تربيت داسی اسره او هيله (اميد) کوئ مگر له دی نه نه شرميږئ چه د هغه حقيقی رب العٰلمين په مقابل کښی د ﴿فَقَالَ أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلَىٰ﴾ غږ پورته کوئ.

وَأَصْبَحَ فُؤَادُ أُمِّ مُوسَىٰ فَارِغًا ۖ إِن كَادَتْ لَتُبْدِي بِهِ
لَوْلَا أَن رَّبَطْنَا عَلَىٰ قَلْبِهَا لِتَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ⑩

او صبا ته وګرځيد زړه د مور د موسٰی تش له صبره قراره (او له نورو افکارو پرته (علاوه) د غمه د موسٰی) بيشکه چه نژدی وه چه اظهار وکړی به دغه (موسٰی سره چه ځوی می دی) که چيری نه وی محکم کړی مونږ (صبر او ثبات) پر زړه د دی چه شی دا له باور کوونکيو (په وعده د الله سره).

**تفسير:** اګر که د موسٰی عليه السلام مور د موسٰی عليه السلام تابوت په سيند کښی لاهو کړ مګر د مور والی لورينی او د مور والی مينی کله دی ته اجازه ورکوله او آرامه به ئی پريښوده چه د موسٰی عليه السلام له حاله او له ياده غافله پاتی شی ـ نو شپه او ورځ به د موسٰی عليه السلام فکر او ذکر له دی سره مل ؤ او له زړه ښځه ئی صبر او قرار فرار کړی ؤ او نژدی ؤ چه د ضبط او صبر تار تری وشليږی او په عمومی دول (طريقه) سره د ژړا او انګولاء په ضمن کښی دغه خبره تری څرګنده شی چه زه هغه کمبخته مور يم چه خپل ځوی می په خپل لاس په سيند کښی غورځولی دی ـ که چا موندلی وی يا ئی پته ور معلومه وی نو راته ودی وائی ـ مګر د الله تعالٰی دغه الهام ﴿إِنَّا رَادُّوهُ إِلَيْكِ وَجَاعِلُوهُ مِنَ الْمُرْسَلِينَ﴾ به ورته داډينه او تسلی ورکوله نو دغه د الله تعالٰی کار ؤ چه د دی زړه ته صبر ، ثبات او تسکين ورپه برخه کړی ځو د الله تعالٰی

اسرار پخوا له وقته افشاء او اظهار نه شي او لږ څه مدت وروسته پخپله د موسٰی علیه السلام مور ته عین الیقین حاصل شي چه د الله تعالیٰ دغه وعده هرومرو (خامخا) پوره کیدونکی ده.

وَقَالَتْ لِأُخْتِهِ قُصِّيهِ فَبَصُرَتْ بِهِ عَن جُنُبٍ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿١١﴾

او ویل (مور د موسٰی) خور د دغه (موسٰی) ته چه څه برابره ورور پسی دی (او خبر ئی راوړه) پس کتل به ئی دغه (موسٰی) ته له لرې ځایه (لکه پردی) حال دا چه دغه (فرعونیان) نه پوهیدل (په دغه) خوروالی او جاسوسی د دی).

**تفسیر:** یعنی کله چه د فرعون په حرم سرای کښې هغه صندوق خلاص او دغه هلک په کښې وموندل شو او په ګرده (توله) دنیا کښې ئی آوازه (انګاځه) ګډه او شهرت ئی وموند د موسٰی علیه السلام مور خپلې لور د موسٰی علیه السلام خور ته لا له پخوا څخه حکم ورکړی ؤ چه ته دی د خپل وروور په سراغ او پته لګولو پسی تل له لرې او جلا (جدا) لګیاء اوسه! او له لرې په پته سره د هغه حال او احوال ځان ته معلوم کړه! چه چیری پیدا کیږی ؟ او څه ماجراء پری تیریږی ؟ کله چه دغه جینۍ پوه او هوښیاره وه د هغه شهرت او انګاځی په اثر ئی ژر ځان برابر هم هغه ځای ته ورسوه چه پر هغه له سینده موندلی هلک باندی لوی ازدحام او بیروبار جوړ شوی ؤ ـ او هلته لکه یوه بی تعلقه اجنبیه لرې ودریده او هیڅ څوک په دی ونه پوهیدل چه دا د دغه هلک خور ده.

وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ الْمَرَاضِعَ مِن قَبْلُ فَقَالَتْ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰٓ أَهْلِ بَيْتٍ يَكْفُلُونَهُۥ لَكُمْ وَهُمْ لَهُۥ نَٰصِحُونَ ﴿١٢﴾

او حرام (منع) کړی وه مونږ پر دغه (موسٰی تی رودل د) دایګانو له پخوا (د بیرته ورتلو مور خپلې ته) نو ویل (خور د موسٰی) آیا خبر کړم زه تاسی پر اهل د (داسی) کاله باندی چه واخلی وساتی دا (هلک) تاسی ته او دوی به ده ته له خیر غوښتونکیو وی.

**تفسیر:** یعنی د فرعون ښځی ملعون فرعون هم د دغه هلک په پالنه او ساتنه راضی کړ ـ دلته د

تی ورکوونکی فکر ورپیدا شو او ډیری دائیگانی ئی طلب کړی ـ مگر قدرت لا له پخوا څخه د موسٰی علیه السلام شونډی کلکی تړلی وی چه پرته (علاوه) د خپلی مور له تی څخه د بل چا تی په خوله ونه نیسی نو سخت تشویش ورپیدا شو چه داسی یوه مرضعه له کومه ځایه راپیدا کړه شی چه دغه هلک ئی تی وروی ؟ ولی چه موسٰی علیه السلام به مطلقاً د هیڅ یوی مرضعی تی ته خپل مخ نه آړاوه فرعونی خدم او حشم په هم دغه فکر او اندیښنه کښی ؤ چه د موسٰی علیه السلام خور وویل چه «زه د داسی یوی کورنی معرفی تاسی ته کولی شم چه ډیره پاکه او صافه ده او ممکن دی چه دغه هلک د هغی کورنی د کومی ښځی تی وروی او تر هغه ځای پوری چه زه معلومات لرم هغوی به په ډیری لورینی (مهربانی) او خیر غوښتنی سره د دغه هلک روزنه او پالنه کوی ځکه چه هغه کورنی ډیره شریفه او نجیبه ده او علاوه پر هغه د باچاهی له کوره د انعام او اکرام لوی توقعات هغوی لا په دی اړوی چه پر دغه هلک ښه توجه او فهم ولری» بالنتیجه د هم دی جینۍ په مشوره د حضرت موسٰی علیه السلام مور وغوښتله شوه په مجرد د دی چه د خپلی مور بوی پر موسٰی علیه السلام ولگیده په ډیره مینه او محبت سره ئی خپل ځان د مور په تی پوری ونښلوه او په غړکهار سره ئی په تی رودلو شروع وکړه ـ فرعونی کورنی ته د دغی ښځی پیدا کیدل ډیر غنیمت معلوم شول چه بالاخر هغه هلک د یوی مرضعی یعنی د خپلی مور تی سره پخلا شو او شودی ئی روی. په دغه گرد (تول) سره خوښ او خوشال شول ـ او ډیر انعامونه او اکرامونه وکړل شول مگر مرضعی خپل ځینی عذرونه او ضروریات وروړاندی کړل چه « زه د هغو لامله (له وجی) دلته نشم اوسیدلی ـ که راته داسی امر او اجازه وشی چه دغه هلک له خپله ځانه سره کور ته یوسم ـ او هلته ئی په فارغ البالی سره روزنه او پالنه وکړم!» لکه چه په هم دغه پاس ترتیب سره بیا موسٰی علیه السلام په امن او اطمینان سره د خپلی مور غیږی ته ورسید او د فرعون هغه طلب او تنخاه چه د دغی مرضعی لپاره تاکلی (مقرر کړی) شوی وه هم ورته په لاس ویریاء ورغله.

---

# فَرَدَدْنٰهُ إِلٰىٓ أُمِّهِۦ كَىْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ وَلِتَعْلَمَ أَنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ

---

پس بیرته راوست مونږ دغه (موسٰی مور خپلی ته دیاره د دی چه یخی (او رڼی) شی سترگی د دی (په بیرته رسیدو د موسٰی) او چه نشی غمجنه (په بیلتون ئی) او دیاره د دی چه وپوهیږی (په عین الیقین هم) په دی چه بیشکه وعده د الله حقه ده

---

**تفسیر:** یعنی په ﴿ إِنَّا رَآدُّوهُ إِلَيْكِ وَجَاعِلُوهُ مِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴾ کښی دوه وعدی ورسره شوی وی

یوه خو هم هغه وعده وه چه مور ئی پخپلو سترگو ولیده چه په څه یو حیرانوونکی طریقه پوره او تر سره شوه او د دوهمی وعدی د پوره کیدلو له پاره ورته قیاس موقع پیدا شوه چه بیشکه هغه هم په خپل وخت او نیته پوره کیدونکی ده.

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۳﴾ ع

ولیکن اکثر د دوی نه پوهیږی (پری چه حقه ده).

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ وعده هرومرو (خامخا) رسیدونکی او واقع کیدونکی ده هو! په منځ کښی ډیر خندونه او موانع پیښیږی چه د هغو په نسبت ډیر ضعیف الاعتقاد کسان متردد او مشتبه کیږی. (موضح).

وَلَمَّا بَلَغَ اَشُدَّهٗ وَاسْتَوٰٓى اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا ؕ وَكَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۴﴾

او کله چه ورسید (موسیٰ) زور (قوت د ځوانی خپلی) ته او برابر شو (په عقل) نو ورکړ مونږ ده ته حکمت (نبوت) او علم (پوه) او هم داسی (مهربانی چه وکړه مونږ په موسیٰ او مور ئی) جزاء ورکووو مونږ نیکی کوونکو ته.

**تفسیر:** یعنی کله چه موسیٰ علیه السلام د خپل رشد او ځلمیتوب وخت ته ورسید نو مونږ ده ته ډیری د حکمت خبری وروښودی او خصوصی علم او فهم او پوهه مو ورکړه ځکه چه دی د هلکتوبه را په دی خوا صالح او نیک عمل ؤ نو داسی پوه او قابلو خلقو سره زمونږ لطف او مرحمت هم داسی مبذول کیږی.

وَدَخَلَ الْمَدِيْنَةَ عَلٰى حِيْنِ غَفْلَةٍ مِّنْ اَهْلِهَا فَوَجَدَ فِيْهَا
رَجُلَيْنِ يَقْتَتِلٰنِ ۖ هٰذَا مِنْ شِيْعَتِهٖ وَهٰذَا مِنْ عَدُوِّهٖ ۚ
فَاسْتَغَاثَهُ الَّذِىْ مِنْ شِيْعَتِهٖ عَلَى الَّذِىْ مِنْ عَدُوِّهٖ ۙ فَوَكَزَهٗ

مُوسٰى فَقَضٰى عَلَيْهِ قَالَ هٰذَا مِنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ إِنَّهٗ عَدُوٌّ مُّضِلٌّ مُّبِيْنٌ ﴿١٥﴾
قَالَ رَبِّ إِنِّيْ ظَلَمْتُ نَفْسِيْ فَاغْفِرْ لِيْ فَغَفَرَ لَهٗ إِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿١٦﴾

او ننوت (موسٰی) ښار (د مصر) ته په وقت د غفلت د اهل د هغه کښې (د غرمې په وقت کښې چه ویده ؤ) پس ویې موندل په دغه ښار کښې دوه سړی چه جګړه یې سره کوله دغه یو (سبطی) له تابعانو د دغه (موسٰی ؤ) او هغه (بل قبطی) له دښمنانو د دغه (موسٰی) ؤ پس مرسته (مدد) وغوښته دغه (سبطی) چه له تابعانو د دغه (موسٰی) ؤ پر هغه (قبطی) چه له دښمنانو د ده ؤ پس په سوک وواهه هغه (قبطی) لره موسٰی پس قضاء وکړه (الله) په دغه قبطی (چه مړ ئی کړ په سوک د موسٰی سره کله چه د وژلو قصد ئی نه ؤ کړی او نه ؤ مامور په قتل د هغه نو ځکه) وویل (موسٰی) چه دغه کار له عمله د شیطان دی، بیشکه چه دغه (شیطان) دښمن دی (د انسانانو) لغزوونکی دی ښکاره. وویل (موسٰی) ای ربه ځما بیشکه زه چه یم ظلم می کړی دی په نفس خپل (په قتل د دغه قبطی سره) پس مغفرت کړه ماته (دغه ګناه ځما) پس مغفرت وکړ (الله) دغه (موسٰی) ته بیشکه چه (الله) هم دی دی خامخا ښه ښونکی د(خطیاتو) ډیر رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره)

**تفسیر:** حضرت موسٰی علیه السلام وروسته له ځلمی تویه یوه ورځ په داسی وقت کښې ښار ته ورسیده چه خلق غافل ویده ؤ ښایی چه یا به د شپې یا به د غرمې وقت ؤ حضرت موسٰی علیه السلام چه کله ځلمی شو د فرعون له قوم او د دوی د ظلم او کفر له سببه بیزاره ؤ او تل به ئی له بنی اسرآئیلو ناسته او ولاړه درلوده (لرله) د ده د مور کور د ښاره د باندی ؤ. حضرت موسٰی علیه السلام به کله کله هلته ورته او کله به د فرعون کره هم ورته ـ د فرعون قوم (قبط) د ده سره هم عداوت او دښمنی درلوده (لرله) او داسی به ئی د ده په نسبت وویل چه دی ذاتاً د غیر قوم یو ځلمی دی ـ نه چه د زور او قوت خاوند شی. موسٰی علیه السلام یوه ورځ ولید چه دوو سړیو پخپلو منځو کښې جنګ سره کوو چه یو ئی سبطی (اسرآئیلی) او هغه بل ئی قبطی ؤ ـ کله چه اسرآئیلی موسٰی علیه السلام ولید ورناری ئی کړی چه «راشه د دغه قبطی له لاسه می خلاص کړه» وایی چه دغه قبطی د فرعون د مطبخ یو سړی ؤ ـ موسٰی علیه السلام لا له پخوا څخه د قبطیانو د ستم او ظلم او تیری څخه باخبره ؤ ـ کله چه دلته موسٰی علیه السلام پخپلو

سترګو د ده لاس اچول او زیادت ولید ـ د ده د حمیت رګ هم وخوځید ممکن دی چه د پوهولو او لار ښوولو او پند او نصیحت کولو په وقت کښې دا قبطی موسٰی علیه السلام ته هم ځینی سختی خبری ویلی وی ـ لکه چه په ځینو تفاسیرو کښې شته الغرض موسٰی علیه السلام تش تهدید او ویرولو لپاره د یوه سوک ګزار پری وکړ خرنګه چه موسٰی علیه السلام ډیر یو قوی ځلمی ؤ په هم هغه سوک سره ئی دغه قبطی پر ځمکه ونښلوه حال دا چه پخپله موسٰی ته دا نه وه معلومه چه ځما په یوه سوک به داسی یو قوی سړی یو په یو مړی نو ډیر زیات خفه شو چه ولی بلا قصده وینه را په غاړه شوه حال دا چه دغه قبطی یو حربی کافر ؤ ـ ظالم ؤ ـ او د موسٰی علیه السلام نیت هم تش د ده تأدیب ؤ او نه ئی غوښت چه وئی وژنی مګر دغه خو یوه خبره ده چه په دغه وقت کښې جنګ او جهاد نه ؤ نښتی ـ او موسٰی علیه السلام قبطیانو ته د سبطیانو له طرفه د حرب اعلان نه ؤ ورکړی ـ بلکه د ده له هغه مطمئن او آرام ژوندون ځخه چه په مصر کښې معروف او مشتهر ؤ ګرد (تول) خلق د ده د لوری مأمون او ډاده ؤ چه دی بی موجب د چا له ځان او مال او نورو شیانو سره هیڅ کار او تعلق نه لری بیا امکان لری چه د غیظ او غضب په جوش کښې د هغی معاملی تحقیق هم په سرسری ډول (طریقه) سره شوی وی او د سوک وهلو په وقت کښې ئی فکر ونشو چه په څه اندازه سره هغه ووهلی شی ؟ او څرنګه یو وهل د تادیب لپاره بس او کافی دی ؟ له بل طرفه د دغه بلا اراده قتل په اثر دغه فکر او اندیښنه تولیده کیده چه له ګوند (ډلی) او ګوند بازی (ډله بازئ) اور یو ځلی بل او د نورو مصائبو او فتنو ابواب ونه پرانستل شی نو ځکه موسٰی علیه السلام له خپل عمل څخه سخت نادم او متأثر شو. او داسی وپوهید چه د ده په دغه عمل کښې تر یوی درجی پوری د شیطان مداخله هم شته. د انبیاء علیهم السلام ضمیر او فطرت داسی پاک او صاف او د هغوی استعداد دومره اعلیٰ وی چه پخوا د نبوت له موندلو څخه دوی د خپلو اعمالو د یوی یوی ذری محاسبه په ډیر تدقیق کوی. او په ډیر لږ ښوئیدلو یا اجتهادی خطاء د پاک الله له درباره په عجز او نیاز او ژړا معافی غواړی او تری توبه کوی لکه چه موسٰی علیه السلام هم د دغی خپلی خطاء معافی وغوښته او پر دغه خپل تقصیر ئی اعتراف وکړ چه د الله تعالیٰ له طرفه ورو‌بښلی هم شو. او اغلباً د دغی معافی معلومات به ده ته د الهام او نورو وسائلو په وسیله شوی وی. ځکه چه انبیاء علیهم السلام خو پخوا تر نبوت د عظمت موندلو څخه د ولایت په خلعت هرومرو (خامخا) معزز وی.

قَالَ رَبِّ بِمَآ أَنۡعَمۡتَ عَلَيَّ فَلَنۡ أَكُونَ ظَهِيرٗا لِّلۡمُجۡرِمِينَ ١٧

وویل (موسٰی) ای ربه ځما په حق د انعام فضل ستا پر ما (وساته ما) پس چه له سره زه هیڅیری نشم مددګار دپاره د ګنهګارانو.

**تفسیر:** یعنی کله چه تا ماته پخپل فضل او کرم د عفوی بشارت رامرحمت کړ او عزت ـ راحت

ـ قدرت او قوت دی راعطاء کړ نو زه د دی د شکرئیی لامله (له وجی) به له سره د مجرمانو او گناهکارانو حامی او مرستی (مدد گار) نه کیږم. ممکن دی چه موسٰی علیه السلام ته د دغه مستغیث اسرآئیلی څه تقصیر هم معلوم شوی وی او هم دغه ته به یی مجرم ویلی وی، یا به ئی له مجرمانو څخه کفار او ظالم خلق مراد وی یعنی زه ستا دغه راکړی قوتونه به وروسته له دی نه له سره د دغو خلقو په نصرت او حمایت کښی نه لگوم یا به له مجرمینو څخه شیاطین مراد وی چه زه به هیڅکله د دوی د جمعیت حمایت نه کوم. څو هغوی ځما په زړه کښی دغسی وسوسی واچوی او دغسی کارونو ته می ولمسوی چه وروسته له هغه زه په ندامت او حسرت کښی اخته شم یا به یی هغه اسرآئیلی ته د دی لامله (له وجی) مجرم ویلی وی چه هغه د دغه جرم د وقوع سبب گرځیدلی ؤ. والله اعلم.

فَأَصْبَحَ فِي الْمَدِينَةِ خَائِفًا يَتَرَقَّبُ

بیا صبا پاخید (موسٰی) په دغه ښار کښی په داسی حال کښی چه ویریدونکی ؤ (پر ځان خپل) چه انتظار به ئی کوو (مدد د رب خپل ته یا لاره ئی کتله د نجات خپل).

**تفسیر:** یعنی موسٰی علیه السلام انتظار کوی او لاری ته گوری چه د دغه مقتول وارثان خپله دعوی به ئی فرعون ته وړاندی کړی وی، ولید شی چه پر چا دغه جرم اوړی ؟ او له ما سره څه سلوک کوی ؟

فَإِذَا الَّذِي اسْتَنْصَرَهُ بِالْأَمْسِ يَسْتَصْرِخُهُ ۚ قَالَ لَهُ مُوسَىٰ إِنَّكَ لَغَوِيٌّ مُّبِينٌ ⑱

پس ناڅاپه هغه (اسرآئیلی) چه نصرت مدد ئی غوښتی ؤ له دغه (موسٰی) څخه پرون اوس بیا ناری وهی دغه (موسٰی ته او مرسته (مدد) تری غواړی پر بل قبطی باندی) پس وویل موسٰی هغه (اسرآئیلی) ته چه بیشکه ته خامخا بی لاری ئی ښکاره (چه پرون دی هغه قبطی راباندی مړ کړ او اوس بیا راته ناری وهی).

**تفسیر:** یعنی هم هغه اسرآئیلی نن له بل کوم سری سره جنگیده او لاس یی پری اچولی ؤ. نو موسٰی علیه السلام داسی ورته وویل چه ته هره ورځ له ظالمانو سره نښلی او غواړی چه ما هم له

هغوی سره په جنګ واچوی لنده یی دا چه حضرت موسٰی علیه السلام ورته ورغی لپاره د امداد.

فَلَمَّآ اَنۡ اَرَادَ اَنۡ يَّبۡطِشَ بِالَّذِىۡ هُوَ عَدُوٌّ لَّهُمَا ۙ قَالَ يٰمُوۡسٰٓى اَتُرِيۡدُ اَنۡ تَقۡتُلَنِىۡ كَمَا قَتَلۡتَ نَفۡسًۢا بِالۡاَمۡسِ ‌ۖ اِنۡ تُرِيۡدُ اِلَّاۤ اَنۡ تَكُوۡنَ جَبَّارًا فِى الۡاَرۡضِ وَمَا تُرِيۡدُ اَنۡ تَكُوۡنَ مِنَ الۡمُصۡلِحِيۡنَ ﴿۱۹﴾

پس کله چه اراده وکړه (موسٰی) چه ونیسی هغه (قبطی) چه ؤ دښمن د دغو دواړو (یعنی موسٰی او د دغه اسرآئیلی حال دا چه موسٰی هغه اسرآئیلی ته په قهر هم شوی ؤ نو) وویل ای موسٰی! آیا اراده لری د دی چه وژنی ته (نن) ما لکه چه وژلی دی ؤ یو نفس (د قبطی) پرون اراده نه لری ته (د هیڅ شی) مګر د دی چه شی (ای موسٰی) زوروړ په ځمکه (د مصر) کښی او اراده نه لری چه شی ته له اصلاح کوونکیو څخه.

تفسیر: یعنی موسٰی علیه السلام غوښت چه پر هغه ظالم قبطی لاس واچوی او دغه مظلوم سبطی (اسرآئیلی) تری خلاص کړی خو سبطی په دی ګمان له موسٰی علیه السلام څخه وویرید کله چه ده راته «غوی مبین» ویلی دی نو نه چه اوس می ووژنی ځکه چه دغه سبطی داسی وپوهید هم هغسی چه په خوله او خبرو سره ماته په غصه او قهر دی نو هرومرو (خامخا) لاس ئی هم پر ما پورته کیږی. هغه پرونی وینه چه تر نن پوری پته وه او څوک پری نه ؤ خبر چه د هغه قاتل څوک دی ؟ کله چه دغه قبطی د هغه سبطی دا خبری واوریدی نو پوه شو چه هغه قبطی هم دغه موسٰی وژلی دی نو ورغی او فرعون ئی خبر کړ او فرعونیانو هم د موسٰی علیه السلام د وژلو اراده وکړه او دغه خبره د دغه سبطی له ژبی نه په هر ځای کښی داسی مشهوره شوه چه هغه سبطی داسی وائی چه د موسٰی یواځی هم دغه کار زده دی چه په زور او جبر سره وژل وکړی او دغه کار ئی زده نه دی چه د طرفینو په منځ کښی صلح او روغه وکړی.

وَجَآءَ رَجُلٌ مِّنۡ اَقۡصَا الۡمَدِيۡنَةِ يَسۡعٰى قَالَ يٰمُوۡسٰۤى اِنَّ الۡمَلَاَ يَاۡتَمِرُوۡنَ بِكَ لِيَقۡتُلُوۡكَ فَاخۡرُجۡ اِنِّىۡ لَـكَ مِنَ النّٰصِحِيۡنَ ﴿۲۰﴾

او راغي يو سړى له آخره د ښاره په دې حال چه رامنډې ئې وهلې وې ويل اى موسىٰ! بيشكه چه مشران مشورې كوي په حق ستا كښې دپاره د دې چه ووژني تا (په قصاص د هغه قبطي) پس ووځه ته (له مصره) بيشكه زه يم تاته له نصيحت كوونكيو (خير غوښتونكيو) نه.

**تفسير:** يعني د دغه قتل خبر فرعون ته رسيدلى دى او هلته سره جرګې او مشورې كوي چه د غير قوم د يوه ځلمي جرائت تر دغې اندازې پورې رسيدلى دى چه د شاهي قوم او د سركارى ملازمانو د يوه فرد قتل ته اقدام كوي د حكومت ملازمان پر موسىٰ عليه السلام پسې په سرعت وځغلول شول چه ژر ئې پيدا او بندي او په قتل ئې ورسوي له هغه مجمع څخه د يوه نيك طينته او پاك زړه او ښه نيته سړي په زړه كښې پاك الله دغه خبره واچوله څو هغه په تلوار او د يوې لنډې لارې څخه په ځغاسته موسىٰ عليه السلام ته خپل ځان ورسوي او دى له دغه ماجراء څخه باخبره او داسې يوه مشوره ورته وركړې چه ښائي ته هم دا اوس له ښاره ووځې! (موضح القرآن) ليكې دغه ئې څمونږ رسول الله صلى الله عليه وسلم ته هم اورولى دى چه خلق د ده د وژلو په فكر كښې هم لوېږي - او دى به هم لكه موسىٰ عليه السلام له خپله وطنه هجرت كولو ته مجبوريږي لكه چه ګرد (تول) كفار تول شوې ؤ څو هغوى ګرد (تول) يو ځلي پر دوى ځان وغورځوي. نو په هم دغه شپه كښې دوى له خپله وطنه هجرت وفرمايه.

فَخَرَجَ مِنْهَا خَائِفًا يَتَرَقَّبُ قَالَ رَبِّ نَجِّنِي مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿٢١﴾
وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلْقَاءَ مَدْيَنَ قَالَ عَسَىٰ رَبِّي أَنْ يَهْدِيَنِي سَوَاءَ
السَّبِيلِ ﴿٢٢﴾

پس ووت موسىٰ له دغه مصر څخه په دې حال كښې چه ويريدونكى ؤ كتل به ئې (هر طرف ته چه څوك راپسې رانشي) وويل (موسىٰ) اى ربه څما نجات راكړه ته ماته له قومه ظالمانو (چه فرعون او تابعان ئې دي) او كله چه متوجه شو (موسىٰ) په طرف د مدين وى ويل اميد دى له رب څما څخه د دې چه وښيي ماته سمه لاره.

**تفسير:** حضرت موسىٰ عليه السلام له مصر څخه د هجرت په قصد لاړ شو ليكن هيڅ يوه لاره او طرف ورته نه ؤ معلوم نو له پاك الله څخه ئې سوال وكړ چه په سمه لاره مى برابر كړه! نو څكه

دی د(مدین) په لویه لاره برابر شو او په خیر او سلامتی سره یی هلته ورسوه او په مدین کښی ئی داسی د امن او اطمینان ژوندون ور په برخه کړ چه په کښی ښه مانوس او متاهل شو یوائحی هم دغومره نه بلکه تر دیر لری پوری ئی نوری لار ښوونی هم ورته وکړی ـ او په سمه صافه لاره ئی رهی (روان) کړ.

وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ أُمَّةً مِّنَ النَّاسِ يَسْقُونَ ۥ وَوَجَدَ مِن دُونِهِمُ امْرَأَتَيْنِ تَذُودَانِ ۖ قَالَ مَا خَطْبُكُمَا ۖ قَالَتَا لَا نَسْقِي حَتَّىٰ يُصْدِرَ الرِّعَآءُ ۖ وَأَبُونَا شَيْخٌ كَبِيرٌ ﴿٢٣﴾

او کله چه ورسید (موسٰی) اوبو د مدین ته نو ئی وموندله پر هغه (کوهی) یوه ډله له خلقو چه اوبه یی ورکولی (مواشیو خپلو ته) او وئی موندلی رابیرته له دوی څخه دوه ښځی چه رامنع کولی به ئی ګډی خپلی (له اوبو نه) نو ویل (موسٰی دغو ښځو ته) چه څه دی حال ستاسی (چه منع کوئ له اوبو ګډی خپلی) وویل هغو (دواړو) چه اوبه نه ورکوو مونږ (ګډو خپلو ته) څو بیرته لاړ شی (دغه) شپانه او پلار څمونږ زوړ (د ډیرو کلونو سړی) دی چه کار ئی له لاسه نه کیږی.

**تفسیر:** مدین له مصر څخه د اتو یا لسو ورځو لری مسافه کښی پروت دی کله چه دی هلته ورسید وږی تږی ؤ. وئی لیده چه خلق پر کوهی راټول دی او خپل مواشی اوبه کوی او دوه داسی ښځی ئی هم هلته ولیدی چه دغو دواړو خپلی ګډی لری حصاری کړی دی او په شرم او حیاء سره لری ولاړی وی په دوی کښی دومره یو زور او قوت نه ؤ چه هغه مجمع له خپلی مخی څخه لری کړی یا بالذات هغه لویه درنه بوکه له اوبو څخه ډکه او له کوهی څخه ئی راوکاږی او ممکن ؤ چه دوی به خپلو ګډو ته داسی اوبه ورښبولی وی چه له نورو څخه وروسته پاتی کیدی نو موسٰی علیه السلام له دوی نه د انتظار علت استفسار کړ هغوی وویل چه مونږ له ګردو (تولو) څخه وروسته خپلو مواشیو ته اوبه ورکوو ځکه که څمونږ پلار ځلمی او قوی وی نو مونږ به ولی راتلو او هغه به پخپله راته او له دغو خلقو سره به ئی خپله معامله خلاصوله.

فَسَقَىٰ لَهُمَا ثُمَّ تَوَلَّىٰ إِلَى الظِّلِّ

پس اوبه کړه (موسٰی رمه) د دغو دواړو بیا ئی شا وګرځوله (ښځو ته او لاړ

شو) سیوری ته

**تفسیر:** د انبیاؤ فطری جذبات او ملکات هم داسی وی ـ سره له دی چه موسٰی علیه السلام په دغه وقت کښی ستری ستومان ـ وږی ـ تږی ؤ ـ خو بیا هم ورته دغه ننگ او غیرت ودرید چه سره ځما د موجودیته دغه ضعیف صنف به ولی له همدردی او اعانته محروم پاتی کیږی نو ودرید هغه لویه تیږه (گټه) او هغه مجمع ئی لری کړه یا وروسته له هغوی له کوهی څخه ئی صافی پاکی تازه اوبه راوویستی او د دغو جونو گدو ته ئی اوبه ورکړی.

فَقَالَ رَبِّ إِنِّي لِمَآ أَنزَلۡتَ إِلَيَّ مِنۡ خَيۡرٖ فَقِيرٞ ﴿٢٤﴾

نو وی ویل ای ربه ځما بیشکه زه هر هغه شیز ته چه ولیږی ته ماته له خیره فقیر (محتاج) یم.

**تفسیر:** یعنی ای الله ! زه د خپل هیڅ عمل اجرت له مخلوقه نه غواړم! هو! که ستا له طرفه کومه ښیگڼه (فائده) راورسیږی زه هغی ته تل محتاج یم. (موضح القرآن) لیکی «ښځو دی وپیژاند چه دغه سړی د لاری مسافر او په سیورو کښی کیناستونکی پردیسی دی او له لری څخه وږی تږی راغلی دی لاړلی او خپل پلار ته ئی دغه گرد (تول) احوال وویل چه هغه حضرت شعیب علیه السلام ؤ علی القول المشهور او هغه ته هم دغسی یو سړی ور په کار هم ؤ چه نیکبخت وی او پسونه ئی وساتی او خپله لور ور واده کړی.

فَجَآءَتۡهُ إِحۡدَىٰهُمَا تَمۡشِي عَلَى ٱسۡتِحۡيَآءٖ قَالَتۡ إِنَّ أَبِي يَدۡعُوكَ لِيَجۡزِيَكَ أَجۡرَ مَا سَقَيۡتَ لَنَاۚ

پس راغله دغه (موسٰی) ته یوه له دواړو چه تگ ئی کاوه په (طریقه د) حیاء سره نو وویل (دی موسٰی ته) چه بیشکه پلار ځما بولی تا دپاره د دی چه درکړی تاته اجر حق د اوبو کولو ستا (گدو) څمونږ ته

**تفسیر:** دغه جینئ داسی راتله لکه چه د شریفی او عفیفی او پاکی ښځی عادت او قاعده وی وائی چه دی له ډیره شرمه او حیاء خپل مخ په تکری (څادر) بیخی پیچلی (نغاړلی) ؤ ـ او خبری به ئی کولی. حضرت موسٰی علیه السلام د الله تعالٰی څخه د خیر طالب ؤ چه ئی له خپله فضله په غیر متوقعه ډول (طریقه) سره وروليږه نو ولی به ئی نه منله ـ پاڅید او له هغی ښځی

سره د شعیب علیه السلام په لوری روان شو وائی چه د تللو په وقت کښی دغی جینئ ته وویل چه «ته ځما په مخکښی مه درومه ! او راپسی راځه نه چه پر پردی ښځی عمداً ځما نظر ولویږی» لکه چه موسٰی علیه السلام د مخه شو ـ او هغه جینئ وروپسی تله او په خبرو سره ئی ورته د لاری ښوونه کوله ـ ځو ئی خپل پلار ته راوست.

فَلَمَّا جَآءَهٗ وَقَصَّ عَلَيْهِ الْقَصَصَ ۙ قَالَ لَا تَخَفْ ۫ نَجَوْتَ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۵﴾

پس کله چه راغی (موسٰی) دغه (شعیب) ته او بیان ئی کړه پر دغه (شعیب) قصه خپله وویل (شعیب موسٰی ته) مه ویریږه ! چه نجات دی وموند له قومه ظالمانو (فرعونیانو) نه.

**تفسیر:** حضرت موسٰی علیه السلام خپله توله قصه حضرت شعیب علیه السلام ته واوروله شعیب علیه السلام ده ته ډادینه او تسلی ورکړه او وی فرمایل چه ته اوس د ظالم قوم د منګلو څخه خلاص شوی وروسته له دی نه دوی انشاءالله تعالیٰ تاته هیڅ ضرر نشی رسولی ځکه چه مدین د فرعون د سلطنت له حدوده خارج ؤ.

قَالَتْ اِحْدٰىهُمَا يٰٓاَبَتِ اسْتَاْجِرْهُ ۫ اِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَاْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْاَمِيْنُ ﴿۲۶﴾

وویل یوی له دغو دواړو ! ای پلاره ځما ! مزدور ونیسه دی (دپاره د میږو «ګډو» څرولو) بیشکه چه غوره د هر هغه چا چه مزدور ئی نیسی هغه څوک دی چه قوتناک او امانتګر وی.

**تفسیر:** یعنی په موسٰی علیه السلام کښی دواړه صفات موجود دی زورور دی چه یواځی لویه تیږه (ګټه) ئی د کوهی له سره لری کړه چه هغه به په څو تنو لری کیده په ډیر قوت او میړانه (بهادری) سره ئی اوبه وویستلی او څموږ رمه ئی په لږ وقت کښی اوبه کړه او ګرده (توله) د اوبو ویستونکی مجمع ئی سره لری کړه او امانت دار دی چه هیڅ طمع او توقع نه لری او ډیر عفیف او یو شریف ځلمی دی تر دی چه په لاره کښی هم له ما ځنی پر مخ ته چه پر ما ئی له

سره نظر ونه لگیږی.

قَالَ اِنِّیْٓ اُرِیْدُ اَنْ اُنْكِحَكَ اِحْدَى ابْنَتَیَّ هٰتَیْنِ عَلٰٓی اَنْ تَاْجُرَنِیْ ثَمٰنِیَ حِجَجٍ ۚ فَاِنْ اَتْمَمْتَ عَشْرًا فَمِنْ عِنْدِكَ ۚ وَمَآ اُرِیْدُ اَنْ اَشُقَّ عَلَیْكَ ؕ سَتَجِدُنِیْٓ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ الصّٰلِحِیْنَ ﴿۲۷﴾

وویل (شعیب موسٰی ته) بیشکه زه اراده لرم د دی چه په نکاح درکرم تاته یوه له دغو لونړو خپلو چه دا دی په دی چه مزدوری وکړی ته څما دپاره اته کاله پس که پوره کړه تا لس کاله نو هغه به ستا له طرفه (له ما سره احسان) وی او نه لرم زه اراده د دی چه مشقت واچوم پر تا (په اشتراط د لسو کلونو) ژر به ومومی ته ما که اراده وفرمائی الله له صالحانو نیکانو (وفا کوونکیو په وعده).

**تفسیر:** ښایی هم دغه خدمت د ده د جینئ مهر وی.

څمونږ حنفیانو په مذهب اوس هم که د بالغی جینئ خوښه وی نو د دی اقارب هم داسی خدمت د مهر په عوض تاکلی (مقررولی) شی **(کذا نقله شیخ الانور اطال الله بقاءه)** دلته یوائحی د نکاح خبری مذکوری دی ظاهر دی چه د نکاح تړلو په وقت کښی حضرت شعیب علیه السلام پخپله یوه جینئ معینه او د هغی په رضاء او خوښی سره ئی نکاح تړلی ده چه هغه په ارجح الاقوال هم هغه مشره وه او بی بی صفورا یا بی بی صفراء رضی الله تعالیٰ عنها نومیده او د حضرت موسٰی علیه السلام معرفی ئی په اول کښی له خپل پلاره سره کړی وه.

﴿ فَاِنْ اَتْمَمْتَ عَشْرًا فَمِنْ عِنْدِكَ ﴾ - پس که پوره کړه تا لس کاله نو هغه به ستا له طرفه له ما سره احسان وی). یعنی اقلا اته کاله به څما په خدماتو کښی هرومرو (خامخا) مصروفیږی که دوه کاله نور دی هم خدمت وکړ نو هغه ستا تبرع ده او زه خو کوم سخت خدمت له تا څخه نه اخلم ته به له ما سره اوسیږی انشاءالله پخپله به په تجربه سره درخرگنده شی چه زه بدطینته سړی نه یم. بلکه د الله تعالیٰ په فضل او کرم سره د نیک بختانو څخه یم. ته به څما په صحبت کښی نه خفه کیږی بلکه د طبیعت د مناسبت لامله (له وجی) به مؤانست درحاصل شی.

قَالَ ذٰلِكَ بَیْنِیْ وَبَیْنَكَ ؕ اَیَّمَا الْاَجَلَیْنِ قَضَیْتُ فَلَا عُدْوَانَ عَلَیَّ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰی مَا نَقُوْلُ وَكِیْلٌ ﴿۲۸﴾ ع

وویل (موسٰی شعیب ته) چه هم دا (عهد مقرر شو) په منځ ځما او ستا کښې
چه هره یوه له دې دواړو نیتو چه پوره کړه ما پس نه به وی زیادت پر ما او
الله پر دغه چه وایو (ئی مونږ یعنی زه او ته وکیل) ساتونکی شاهد دی.

---

**تفسیر:** یعنی زه مختار او خپلواک یم چه اته کاله درسره پاتی کیږم که لس کاله په هر حال دا معاهده چه اوس تړلی شوی ده د الله په اعتماد ځما خوښه او منظوره ده زه پاک الله پر دغه معاهده شاهدوم او دغه معامله ختم کوم. په احادیثو کښې راغلی دی چه موسٰی هم دغه اوږد مدت (لس کاله) پوره کړ حضرت شاه صاحب فرمایی ځمونږ رسول صلی الله علیه وسلم هم کله چه له خپله وطنه ووت اته کاله وروسته راغی چه معظمه مکه فتح کړی ـ او که ئی خوښه شوی وی په هم هغه وقت کښې به ئی هم هغه ښار له کفارو څخه تخلیه کړی وی لیکن پخپله خوښه یی لس کاله وروسته هغه له کفارو څخه پاکه کړه.

---

فَلَمَّا قَضَىٰ مُوسَى الْأَجَلَ وَسَارَ بِأَهْلِهِ آنَسَ مِن جَانِبِ
الطُّورِ نَارًا قَالَ لِأَهْلِهِ امْكُثُوا إِنِّي آنَسْتُ نَارًا لَّعَلِّي آتِيكُم
مِّنْهَا بِخَبَرٍ أَوْ جَذْوَةٍ مِّنَ النَّارِ لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ ﴿٢٩﴾
فَلَمَّا أَتَاهَا نُودِيَ مِن شَاطِئِ الْوَادِ الْأَيْمَنِ فِي الْبُقْعَةِ
الْمُبَارَكَةِ مِنَ الشَّجَرَةِ أَن

---

پس کله چه پوره کړه موسٰی نیته (خپله په اتو یا لسو یا شلو کلونو) او رهی (روان) شو سره له عیال خپل (په اذن د شعیب مصر ته) ولید (موسٰی) له جانبه (د غره) د طور یو اور، وی ویل عیال خپل ته چه مدار وکړئ تاسی (په دی ځای کښې) بیشکه زه چه یم ومې لید یو اور ښائی ما لره چه راتله وکړم تاسی ته له دی (اور) څخه په خبر (د لاری ورکی) یا په بخری (سکروټی یا شغلی) له هغه اوره لپاره د دی چه تاسی (پری) تاوده شئ! پس کله چه راغی (موسٰی) دغه (اور) ته نو غږ (ورته) وکړ شو له غاړی د هغی کندی چه په ښی طرف (د موسٰی) کښې وه (دغه غاړه وه) په هغه توته مبارکه کړی شوی کښې (له جهته د اوریدو د موسٰی کلام د الله لره په دی کښې) له (هغی) ونی

**تفسیر:** چه ولاړه وه په غاړه د کندی کښې او د اور لمبې ترې خرګندیدې.

يٰمُوۡسٰۤى اِنِّىۡۤ اَنَا اللّٰهُ رَبُّ الۡعٰلَمِيۡنَ ۝۳۰ وَاَنۡ اَلۡقِ عَصَاكَ‌ؕ فَلَمَّا
رَاٰهَا تَهۡتَزُّ كَاَنَّهَا جَآنٌّ وَّلّٰى مُدۡبِرًا وَّلَمۡ يُعَقِّبۡ‌ؕ يٰمُوۡسٰٓى
اَقۡبِلۡ وَلَا تَخَفۡ‌ اِنَّكَ مِنَ الۡاٰمِنِيۡنَ ۝۳۱ اُسۡلُكۡ يَدَكَ فِىۡ
جَيۡبِكَ تَخۡرُجۡ بَيۡضَآءَ مِنۡ غَيۡرِ سُوۡٓءٍ

داسی چه ای موسٰی بیشکه زه هم دا زه الله یم رب د عالمیانو او بل داسی (غږ پری وشو چه) وغورځوه همسا خپله (پس وئی غورځوله) نو کله چه وئی لیدله (موسٰی) دا (عصا) چه خوځیدله ګواکی دا (عصا) یو نری منګری مار توپ وهونکی دی نو شا ئی کړه مخ ئی واړاوه په دی حال کښې چه تښتیدونکی ؤ (له ویری) او بیرته راونه ګرځید (بیا پری غږ وشو د الله تعالیٰ له جانبه داسی) چه ای موسٰی مخ راواړوه او بیرته راوګرځه! او مه ویریږه! بیشکه ته چه ئی له امان موندونکیو ئی (له ویری نه او بیخی مامون ئی!) ننباسه (ښی) لاس خپل په ګریوان (د کمیس خپل کښې) بیا ئی خارج کړه حال دا چه راوځی به تک سپین بی له کوم عیب (مرض ـ بدی)

**تفسیر:** د دغی رکوع له ابتداء څخه تر «غیر سوء» پوری ګرد (تول) مفصل واقعات د «طٰهٰ» په سورت او نورو ځایونو کښې تیر شوی دی هلته دی ولوستل شی!

وَّاضۡمُمۡ اِلَيۡكَ جَنَاحَكَ مِنَ الرَّهۡبِ

او پیوست کړه (سینی) خپلی ته څانګ (یعنی لاس) دی له (جهته) د ویری

**تفسیر:** او رانژدی کړه ځان ته یعنی سینی خپلی ته څانګ دی یعنی لاس دی له جهته د ویری له مار یا له برص یعنی خپل مټ دی له خپلی سینی سره او تخرګ (ترخ) ته نژدی کړه د مار او د برص او د نورو شیانو ویره به له تا څخه لری کیږی ښائی چه د راتلونکی لپاره ئی هم د ویری د ازالی په نسبت هم دغه ترکیب وریښوولی وی.

فَذٰنِكَ بُرْهَانٰنِ مِنْ رَّبِّكَ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ ؕ

نو دغه دواړه (عصا او يد بيضاء) دوه برهانه (او سندونه په رسالت د تا دی لیږلی شوی) له (طرفه د) رب ستا طرف د فرعون ته او قوم د ده ته

**تفسیر:** یعنی د «عصا» او «ید بیضاء» معجزی د نبوت د برهان او سند په ډول (طریقه) درعطاء کړی شوی دی څو پر دغه وسیله سره پر فرعون او نورو سبطیانو د حجت اتمام وکړی شی!

اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ﴿۳۲﴾ قَالَ رَبِّ اِنِّيْ قَتَلْتُ مِنْهُمْ نَفْسًا فَاَخَافُ اَنْ يَّقْتُلُوْنِ ﴿۳۳﴾

بیشکه چه دوی دی قوم فاسقان (وتلی له فرمان د الله) وویل (موسٰی) ای ربه ځما بیشکه زه چه یم وژلی می دی له دغو (قبطیانو) څخنی یو نفس (سړی) پس ویریږم چه دوی وبه می ووژنی (په قصاص د هغه سره).

**تفسیر:** یعنی که په مجرد د رسیدلو می ووژنی نو ستا دغه دعوت به څرنګه ورسولی شم ؟

وَاَخِيْ هٰرُوْنُ هُوَ اَفْصَحُ مِنِّيْ لِسَانًا فَاَرْسِلْهُ مَعِيَ رِدْاً يُّصَدِّقُنِيْۤ ۫ اِنِّيْۤ اَخَافُ اَنْ يُّكَذِّبُوْنِ ﴿۳۴﴾

او ورور ځما هارون هغه ډیر فصیح دی له ما له جهته د ژبی پس ولیږه هغه هم له ما سره یار مددګار چه تصدیق کوی ځما بیشکه زه ویریږم له دی چه دروغجن به کړی دوی ما.

**تفسیر:** یعنی که کوم یو بل تصدیق او تائید کوونکی سړی هم راسره وی نو طبعاً به ځمونږ زړونه مضبوط او قوی کیږی نو د ده د دروغجن شمیرلو په موقع کښی کله چه د بحث او مناظری وار ورسیږی امکان لری چه ځما د ژبی د لکنت او بندیدلو لامله (له وجی) په خبرو او اترو کښی څه موانع او عوائق واقع شی نو په دغه وقت کښی به د هارون رفاقت ماته ډیر نافع

او مفید واقع شي ځکه چه د ده ژبه له ما څخه ډیره ښه چلیږي او ښه فصیح او بلیغ دی.

قَالَ سَنَشُدُّ عَضُدَكَ بِأَخِيكَ وَنَجْعَلُ لَكُمَا سُلْطَٰنًا فَلَا يَصِلُونَ إِلَيْكُمَا ۚ بِـَٔايَٰتِنَآ ۚ أَنتُمَا وَمَنِ ٱتَّبَعَكُمَا ٱلْغَٰلِبُونَ ﴿۳۵﴾

وفرمایل (الله) ژر به قوی کړو مونږ مټ ستا په ورور ستا او وبه ګرځوو مونږ تاسي ته غلبه (او تسلط پر دښمنانو د تاسي) پس وبه نه رسیږی دوی تاسي دواړو ته (په ضرر سره لاړ شئ تاسي دواړه) په سبب د معجزو ځمونږ سره تاسي دواړه او هر هغه څوک چه متابعت وکړی ستاسي غالبان به اوسئ (پر دوی باندی)

**تفسیر:** یعني ما ستا دغه دواړه غوښتني منظوری کړی هارون به ستا بازو او مټ وی او د یوه وزیر پشان به ستا سره ملګرتوب کوی او د فرعون لاس به له سره په تاسي نه رسیږی او ځمونږ د دغو دلائلو او نښو په برکت تاسي او ستاسي ملګری ټل غالب او بریالی (کامیاب) او دوی سره له خپلو ملګرو ټل مغلوب او پړه دی.

فَلَمَّا جَآءَهُم مُّوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا بَيِّنَٰتٍ قَالُوا۟ مَا هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّفْتَرًى وَمَا سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِىٓ ءَابَآئِنَا ٱلْأَوَّلِينَ ﴿۳۶﴾

پس کله چه راغی دوی ته موسیٰ سره له معجزو ځمونږ چه ښکاره وی وویل (فرعونیانو) چه نه دی دا مګر خو سحر (کوډی) دی په دروغو سره تړلی شوی او نه دی اوریدلی مونږ دا (سحر یا دعوی د نبوت) په (زمانو د) پلرونو ځمونږ کښي چه پخوا تیر دی.

**تفسیر:** یعني د دغو معجزاتو د لیدلو په اثر ئی وویل چه دغه ګردی (تولی) کوډی او سحر دی او د هغو خبرو نسبت چه دوی الله ته کوی هغه هم د کوډو خبری دی چه دوی له خپله ځانه جوړی کړی دی او داسي دعوی کوی چه دغه پر ما باندی الله تعالیٰ د وحی په صورت نازلی کړی دی په واقع کښي دغه وحی او الهام هیڅ شي نه دی. او یواځي د سحر او د کوډو اعمال ـ او د سحر تخیل او افتراء ده دغه خبری چه موسیٰ کوی مثلاً یوه الله تعالیٰ دغه ګرده (توله)

دنیا پیدا کړی ده ـ او هم هغه یو الله جل جلاله هم دغه دنیا فناء کوی او بیا ئی له سره ژوندی کوی ـ بیا به حساب او کتاب اخلی ـ او زه ئی رسول ګرځولی او درلیږلی یم ـ او نور مونږ له خپلو پخوانیو مشرانو او نورو څخه نه دی اوریدلی او داسی څیز مو له سره غوږو ته نه دی رسیدلی.

وَقَالَ مُوسٰى رَبِّيْٓ اَعْلَمُ بِمَنْ جَآءَ بِالْهُدٰى مِنْ عِنْدِهٖ وَمَنْ تَكُوْنُ لَهٗ عَاقِبَةُ الدَّارِ ۭ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۳۷﴾

او وویل موسیٰ چه رب څما ښه عالم دانا دی په هغه چا چه راغلی دی په هدایت (راوړی ئی دی) له طرفه د هغه (رب) او په هغه چا باندی چه شته هغه ته ښه خاتمه په دی دنیا کښی بیشکه دا دی چه نه مومی بری ظالمان (چه هدایت ومومی په دنیا او راحت په عقبیٰ کښی).

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ په دی باندی ښه عالم دی چه زه پخپله په دغی دعوی کښی رښتین یم او د هغه له نزده می هدایت راوړی دی نو څکه آخره خاتمه او انجام به می ښه وی ـ هغه خلق چه د الله تعالیٰ دغه ښکاره د قدرت نښی وینی او د صداقت دلائل اوری او د بی انصافی له مخی ئی تکذیب کوی دوی له سره بری نه مومی او د کامیابی مخ نه وینی او په آخره خاتمه کښی دوی له ذلت او ناکامی سره مخامخ کیدونکی دی.

وَقَالَ فِرْعَوْنُ يٰٓاَيُّهَا الْمَلَاُ مَا عَلِمْتُ لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرِيْ ۚ فَاَوْقِدْ لِيْ يٰهَامٰنُ عَلَى الطِّيْنِ فَاجْعَلْ لِّيْ صَرْحًا لَّعَلِّيْٓ اَطَّلِعُ اِلٰٓى اِلٰهِ مُوْسٰى ۙ وَاِنِّيْ لَاَظُنُّهٗ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿۳۸﴾

او وویل فرعون ای تولیه د مشرانو (د اهل د مصر!) نه پیژنم زه تاسی ته کوم خدای (چه عبادت ورته کوئ) بی له ما څخه پس بل کړه اور څما لپاره ای هامانه پر ختی باندی (خښتی راته پخی کړه) پس وګرځوه جوړه کړه څما لپاره مانی لوړه (اوچته) ښائی ماته چه وخیژم الله د موسیٰ ته (وئ ګورم چه شته ؟ که نشته ؟) او بیشکه خامخا زه ګمان کوم پر موسیٰ (د

یوه) له دروغجنانو.
(په دعوی د بل معبود کښی بی له مانه)

**تفسير:** یعنی خپل وزیر هامان ته ئی وویل چه «د خورا (ډیر) کلکو او ښو خښتو دپاره ډیر ښه داشونه جوړ کړه ! او بیا له هغو خښتو څخه یوه ډیره پخه او هسکه مانی راجوړه کړه ! چه آسمان ته نژدی شی څو زه پر هغه پاس وخیژم او د موسٰی الله جل جلاله وګورم چه چیری دی ؟ او څرنګه دی ؟ ځکه چه د ځمکی پر مخ باندی ماته له خپله ځانه پرته (علاوه) بل خدای په نظر نه راځی نو د آسمان په نسبت هم ځما خیال هم داسی دی چه هلته به هم بل خدای نه وی خو بیا په دغه ترتیب سره به د موسٰی علیه السلام دپاره یو مسکوت جواب پیدا شی.» دغه خبره دغه ملعون د تمسخر او استهزاء په ډول (طریقه) وکړه او امکان لری چه دومره بدحواسه او پاګل به هم شوی وی چه د هغه په اثر داسی چټی (بیکاره) او د خندا وړ (لایق) تجاویز به ئی جوړول او په کار به ئی اچول.

وَاسْتَكْبَرَ هُوَ وَجُنُودُهُ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَظَنُّوا أَنَّهُمْ إِلَيْنَا لَا يُرْجَعُونَ ﴿٣٩﴾ فَأَخَذْنَاهُ وَجُنُودَهُ فَنَبَذْنَاهُمْ فِي الْيَمِّ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظَّالِمِينَ ﴿٤٠﴾

او کبر وکړ دغه (فرعون) او لښکرو د دغه (فرعون) په ځمکه (د مصر) کښی په ناحقه سره (بی له استحقاقه) او ګمان وکړ دوی د دی چه بیشکه دوی به مونږ ته نه راګرځول کیږی (په قیامت کښی) پس راونیوه مونږ هم دغه (فرعون) او (هم) لښکری د دغه (فرعون) پس وغورځول مونږ دوی (ټول) په سیند کښی (پس غرق شول) نو وګوره (ته ای محمده !) چه څرنګه ؤ عاقبت (آخره خاتمه) د ظالمانو

**تفسير:** یعنی له خپلی خاتمی او انجامه بالکل غافل شو او په خپل مملکت کښی په تکبر او غرور ئی لاس پوری کړل او په دی ونه پوهید چه بل د ده سر ماتوونکی او غاړه ځپیښونکی هم موجود دی. بالاخر قهار الله دی سره د ده د لاؤ لښکر د قلزم په بحیره کښی غرق کړ څو دغه لویه واقعه د یادګار په شان نورو هغو بدبختو ظالمانو ته پاتی شی چه له انجامه بی خبره او غافل دی او ښه وپوهیږی چه د دوی خاتمه به هم داسی کیږی د دغه غرق او نورو وړپوری ترلی خبرو تفصیلات پخوا له دی نه هم تیر شوی دی.

وَجَعَلْنٰهُمْ اَئِمَّةً يَّدْعُوْنَ اِلَى النَّارِ ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ لَا يُنْصَرُوْنَ ۝۴۱

او ګرځولي ؤ مونږ دوی پیشوایان (د ګمراهي په دنیا کښې) چه بولي دوی (تابعان خپل په بدو عقیدو او عملونو سره) طرف د اور ته او په ورځې د قیامت کښې وبه کړی شي مدد (له دوی سره په دفع د عذاب کښې له دوی نه)

**تفسیر:** یعني دلته په ضلالت او طغیان کښې له ګردو (تولو) څخه وړاندی او مقدم ؤ او خلقو ته به ئې د دوزخ په لوری بلنه کوله هلته به هم دی د نورو دوزخیانو امام او مشر وی لکه چه (د هود) په ۱۱ جزء (۹) رکوع ۹۸ آیت کښې مسطور دی ﴿ يَقْدُمُ قَوْمَهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَاَوْرَدَهُمُ النَّارَ ۖ وَبِئْسَ الْوِرْدُ الْمَوْرُوْدُ ﴾ یعني د دی ځای لښکر به ئې هلته هیڅ په کار نه ورځی ـ نه به د چا له لوری کوم امداد او معاونت وررسیږی ـ دی سره له خپل لاؤ لښکر ګرد (تول) په دوزخ کښې غورځول کیږی هیڅوک به د دوی خلاصوونکی نه وی.

وَاَتْبَعْنٰهُمْ فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ هُمْ مِّنَ الْمَقْبُوْحِيْنَ ۝۴۲ ع

او تابع (لازم) کړ مونږ له دوی سره په دغه (لږ خسیس ژوندون د) دنیا کښې لعنت لریوالی (له رحمته) او په ورځ د قیامت کښې به وی دوی له قبیح (لری له رحمت او بد څیرو کړیو شویو څخه)

**تفسیر:** یعني د عقبا بدی او بد انجام خو بیل دی په هم دغه دنیا کښې تر هغه پوری چه خلق اوسیږی پر داسی کسانو لعنت وائی.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ مِنْ ۢ بَعْدِ مَاۤ اَهْلَكْنَا الْقُرُوْنَ الْاُوْلٰى

او خامخا په تحقیق ورکړی ؤ مونږ موسٰی ته کتاب (توریت) وروسته د هغه چه هلاک کړی ؤ مونږ (اهل د) زمانو ړومبنیو (لکه قوم د نوح، لوط او نور)

**تفسیر:** د توریت له نزوله وروسته پر دنیا داسی د اهلاک او د افناء عذاب ډیر لږ راغلی دی ځکه چه د سماوی اهلاک په ځای د جهاد طریقه مشروع کړی شوی ده ځکه چه څه نه څه خلق هرومرو (خامخا) پر شرعیه و احکامو قائم اوسیږی.

بَصَآئِرَ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَّرَحْمَةً لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿۴۳﴾

حال دا چه سبب د انوارو د زړونو وه دپاره د خلقو او سمه لاره ښوونکی او رحمت ؤ دپاره د هغو (کسانو چه ایمان ئی پری راوړی دی) ښائی چه دوی پند واخلی پری.

**تفسیر:** یعنی توریت چه موسٰی علیه السلام ته ورکړی شوی دی لوی فهم او بصیرت عطاء کوونکی او خلقو ته د هدایت پر سمه صافه لاره بیوونکی او د رحمت مستحق گرځوونکی یو کتاب ؤ څو خلق هغه ولولی ـ او د الله تعالیٰ په یادو اوسیږی ـ او د الله تعالیٰ احکام یاد کړی پند او نصیحت تری حاصل کړی. ریښتیا خو دا ده چه وروسته له عظیم‌الشان قرآن څخه په هدایت کښی د توریت شریف درجه ده او نن ورځ چه هغه د خپلو تابعانو له لاسه ضایع شوی دی هم دغه پاک قرآن د توریت د ضروری علومو او هدایت حفاظت کوی.

وَمَا كُنتَ بِجَانِبِ الْغَرْبِيِّ إِذْ قَضَيْنَا إِلَىٰ مُوسَى الْأَمْرَ وَمَا كُنتَ مِنَ الشَّاهِدِينَ ﴿۴۴﴾

او نه وی ته (حاضر ای محمده! له موسٰی سره) په جانب (د هغه غره چه) غربی (ؤ له موسٰی څخه په وخت د مناجات کښی) هغه وقت چه ولیږه مونږ طرف د موسٰی ته امر (حکم د رسالت) او نه وی ته له حاضرینو (عندالوحی چه دغه قصه دی له خپلو لیدلو بیان کړی وی).

**تفسیر:** یعنی د طور د غره له غربی جانبه چیری چه موسٰی ته نبوت او توریت ورعطاء شوی دی.

وَلَٰكِنَّا أَنشَأْنَا قُرُونًا فَتَطَاوَلَ عَلَيْهِمُ الْعُمُرُ

ولیکن مونږ پیدا مو کړل اهل د زمانو (ډیر وروسته له موسٰی) پس اوږده شول پر دوی عمرونه،

**تفسیر:** یعنی ته د هغه وقت واقعات په داسی صحت او صفائی ـ بسط او تفصیل سره بیانوی لکه چه هم هغلته له «طور» سره ولاړ وی او دغه ګرد (تول) واقعات دی پخپلو سترګو سره لیدلی وی حال دا چه ستاسی عدم الوجود په هغی موقع کښی یوه ښکاره او ظاهره خبره ده ـ او برسیره پر دی هم ګرد (تول) عالم خبر دی چه تاسی امی یئ ـ د کوم عالم په صحبت کښی هم نه یئ اوسیدلی. او نه د صحیحو او ثقه ؤ واقعاتو کوم ښه جید عالم په مکی معظمی کښی موجود ؤ نو سره له دی دغه خبره د غور او دقت لایقه او وړ (قابل) ده چه دغه علوم او حقایق له کوم ځای تاسی ته راغلل. حقیقت دا دی چه د دنیا پر اقوامو ډیر مدتونه او قرنونه تیر شوی دی چه د دهورو له مروره هغه علوم بیخی منحرف او مندرس او هغه حقائق محو او اضاعه او له یاده ووتل نو ځکه د هغه علیم او خبیر اراده په دی باندی مقتضی شوه چه د یوه امی له ژبی څخه هغه هیر شوی سبق بیا د خلقو په یاد ورکړ شی او د هغو عبرتناکو او موعظت ورکوونکیو واقعاتو داسی یوه صحیحه نقشه د دنیا خلقو ته ور وړاندی کړی شی چه د هغی له لیدلو څخه بی اختیاره د دغی خبری منل او تسلیم ته غاړه کیږدی چه بیشکه د دغو قصصو او اخبارو راوړونکی په هغه موقع کښی موجود ؤ او دغه واقعات ئی پخپلو سترګو سره لیدلی دی چه له «من» او «عن» او له ګردو (تولو) کیفیاتو څخه ئی خبردار دی پس ظاهر دی چه ته خو هلته نه وی موجود بی له دی نه چه د دی خبری تصدیق وشی چه دغه ګردی (تولی) خبری د پاک الله هغه کلام دی چه تاسی ئی په ژبه سره خپلو بندګانو ته بیانوئ او د ده په مخ کښی هر غائب حاضر ـ او هر مجهول معلوم دی بیشکه چه دغه د هم هغه واحد احد الله کلام دی.

وَمَا كُنتَ ثَاوِيًا فِيٓ أَهۡلِ مَدۡيَنَ تَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِنَا وَلَٰكِنَّا كُنَّا مُرۡسِلِينَ ﴿٤٥﴾

او نه وی ته (ای محمده!) اوسیدونکی په اهل د مدین کښی چه لوستل به دی پر دوی باندی آیتونه (د قدرت) ځمونږ ولیکن مونږ چه یو ـ یو مونږ لیږونکی (تا لره دپاره د دغی قصی په وحی سره).

**تفسیر:** یعنی موسٰی علیه السلام ته هغه واقعات چه وروسته د «مدین» له هجرت څخه ورپیښ شوی دی ته د هغو واقعاتو بیان په داسی ښه ډول (طریقه) او صحت سره کوی چه له هغه څخه داسی څرګندیږی چه ګواکی تاسی په هغه وقت کښی سره د نبوت له شانه هلته مسکون وئ او

ځرنګه چه ته نن پخپل وطن معظمه مکه کښې آيات الله خلقو ته لولئ او ګردو (تولو) ته ئې اوروی په هغه وقت کښې به دی د «مدين» خلقو ته هم اوروّلی وی حال دا چه دغه څيز صريحاً منفی دی. خبره صرف دغومره ده چه مونږ تل تر تله انبياء مبعوث کړی دی څو دنيا د غفلت له خوبه پاڅوی او د تيرو عبرتناکو واقعاتو نتائج ورپه ياد کړی له دغه عمومی عادت سره سم مونږ په دغه وقت کښې تاسی د رسول الله په حيث ليږلی يئ څو د تيرو اقوامو قصې دوی ته وکړئ او دوی د غفلت له خوبه راپاڅوئ نو ځکه دغه خبره ضروری شوه چه د صحيح او ثقه او رښتيا واقعاتو معلومات او احوال هم تاسی ته درکړل شي او ستاسی په ژبه اداء کړل شي.

---

**وَمَا كُنتَ بِجَانِبِ الطُّورِ إِذْ نَادَيْنَا وَلَٰكِن رَّحْمَةً مِّن رَّبِّكَ**

---

او نه وی ته (ای محمده!) په جانب د طور کله چه غږ وکړ مونږ (موسیٰ ته) وليکن ( ليږلی ئې مونږ ته ای محمده!) رحمت له طرفه د رب ستا

---

**تفسير:** کله چه پر موسیٰ عليه السلام داسی غږ وکړ شو چه ﴿ إِنِّي أَنَا اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ ﴾ ته خو هلته ولاړ نه وی ؟ او دغه غږ خو دی نه دی اوريدلی ؟ دغه د الله تعالیٰ انعام او اکرام دی چه ته ئې پر دغو واقعاتو او حقائقو مطلع کړی او ستا سره ئې هم هم داسی يو وضعيت او رعايت وفرمايه لکه چه له موسیٰ سره شوی ؤ. ګواکی په «جبل النور» کښې چيری چه د «حراء» غار دی او په مکه معظمه او مدينه منوره کښې د «جبل الطور» او د «مدين» واقعات بيا له سره اعاده او تکرار شول.

---

**لِتُنذِرَ قَوْمًا مَّا أَتَاهُم مِّن نَّذِيرٍ مِّن قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٤٦﴾**

---

(دپاره) د دی چه وويروی ته هغه قوم چه نه دی راغلی دوی ته هيڅ ويرونکی (له عذابه) پخوا له تا (ای محمده!) دپاره د دی چه دوی پند واخلی پری.

---

**تفسير:** يعنی د عربو خلقو ته دغه شيان وروښيه! او دوی له دغو خطرناکو عواقبو څخه خبردار کړه ! ممکن دی چه دوی دغه خبری واوری او په ياد ئې ولری او پند او نصيحت تری واخلی.

**تنبيه:** له ﴿ مَّا أُنذِرَ آبَاؤُهُمْ ﴾ څخه به «**آباؤهم الاقربون**» مراد وی. والله اعلم.

---

**وَلَوْلَا أَن تُصِيبَهُم مُّصِيبَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ فَيَقُولُوا رَبَّنَا لَوْلَا أَرْسَلْتَ**

إِلَيْنَا رَسُولًا فَنَتَّبِعَ اٰيٰتِكَ وَنَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٧﴾

او كه چيرى نه وى دا چه وبه رسيږى دوى ته مصيبت (غم عذاب) په سبب د هغو (گناهونو) چه پخوا ليږلى دى لاسونو د دوى پس وبه وائى (دغه كفار) اى ربه ځمونږ ولى دى نه راليږه تا مونږ ته كوم رسول (چه ستا احكام ئى مونږ ته راوړى وى) پس متابعت به كړى ؤ مونږ د آياتونو ستا او شوى به وو مونږ له مؤمنانو (په تا او په هغه رسول ستا باندى).
(كه دا خبره نه وى نو نه به مو وى ليږلى ته دوى ته ليكن ليږلى مو ئى چه عذر ئى پاتى نشى)

**تفسير:** دا اول «لولا» امتناعيه دى چه شرط او جزاء غواړى او دا آيت ئى تر آخره شرط دى او جزاء ئى محذوفه ده چه «**كما ارسلناك**» يا «**لانزلنا عليهم العذاب**» دى. او دغه دوهم «**لولا**» تحضيضيه دى چه له درست مدخول خپل سره واقع شوى دى په سياق د اول. نو حاصل د آيت داسى شو چه كه چيرى نه وى دا قول د دوى په وقت د نزول د عذاب كښى له جهته د كفره او د معاصيو د دوى چه اى ربه ولى دى نه راليږه مونږ ته كوم رسول چه ستا آيتونه ئى رارسولى وى او مونږ پرى عمل كړى وى او اوس مؤمنان وى نو مونږ به ته نه وى ليږلى يا عذاب به مو راليږلى وى
يعنى د رسول الله بعثت په دوى كښى د دوى خوش قسمتى ده كه بى د رسول الله صلى الله عليه وسلم له ليږلو څخه مو دوى ته پر دغو ظاهرو او باهرو طغيانو او بى عقليو او بى ايمانيو سزا وركولى خو دغه هم عين الانصاف او عدل ؤ ليكن الله تعالىٰ پر دوى احسان وفرمايه او د هيڅ قسم معقول عذر او پلمو (تدبيرونو) وړاندى كولو لپاره ئى موقع ورپرى نه ښوده ځكه امكان ئى درلود (لرلو) چه د سزاء وركولو په وقت كښى به ئى ويل چه «الها مونږ ته خو دى كوم رسول نه دى راليږلى ترڅو ئى مونږ پر خپلو اغلاطو پوهولى وى او اقلا سمه لاره ئى راښوولى او څه تنبيه ئى راكولى ـ او دغه دى چه مونږ دى بى خبره په دوزخ كښى ورغورځولو. هو ! كه كوم نبى دى راغلى وى نو عالم به ليده چه مونږ په څه اخلاص او عقيدت سره له پخو ايماندارانو څخه ثابت كيدو.»

فَلَمَّا جَاۤءَهُمُ الْحَقُّ مِنْ عِنْدِنَا قَالُوا لَوْلَاۤ اُوتِيَ مِثْلَ مَاۤ اُوتِيَ مُوسٰى

پس کله چه راغی دغو (کفارو) ته حق قرآن له جانبه ځمونږ نو وی ویل (دغو کفارو) ولې نه دی ورکړی شوی (محمد ته معجزی) په شان د هغو (معجزو) چه ورکړی شوی وی موسٰی ته (لکه عصا او ید بیضاء)

**تفسیر:** یعنی که مو رسول نه لیږه نو داسی به ئی ویل چه ولې دی رسول راته ونه لیږه ؟ اوس چه داسی رسول ورمبعوث شوی دی چه له ګردو (تولو) انبیاؤ ځخه په شان او رتبه کښې لوی دی نو وائی صاحبه ! مونږ دی هله منو کله چه وګورو چه د موسٰی علیه السلام په شان له تا ځخه د «عصا او ید بیضاء» او نور معجزات راښکاره شی حال دا چه هغه ته «توریت» هم یو ځلی د یوه کتاب په شکل ورنازل شوی ؤ او ته دی خپل کتاب د دوو دوو ځلورو ځلورو آیاتونو په شکل راورانْدی کوی.

اَوَلَمۡ يَكۡفُرُوا۟ بِمَآ أُوتِىَ مُوسَىٰ مِن قَبۡلُ ۖ

آیا نه ؤ کافران شوی (جنس د کفارو) په هغو (معجزو) چه ورکړی شوی وی موسٰی ته پخوا (له نزوله د دغه قرآن)

**تفسیر:** یعنی د موسٰی علیه السلام کتاب او معجزات مو چیری ګرد (تول) سره منلی ؤ د هغه په نسبت مو هم شبهات ایستل او ورته مو «سحر مفتری» ویل لکه چه اوس په یوه دوه رکوع مخکښې تیر شو. هو! هر څوک چه غواړی د پاک الله احکام ونه منی نو پر هره یوه خبره یو نه یو شی وائی او راز راز (قسم قسم) احتمالات د هغه په نسبت پیدا کوی.

قَالُوا۟ سِحۡرَانِ تَظَـٰهَرَا وَقَالُوٓا۟ إِنَّا بِكُلٍّ كَـٰفِرُونَ ۝٤٨

وویل (منکرانو په حق د موسٰی او محمد کښې چه خاوندان د ) سحر دی مدد کوی یو د بله او وی ویل چه بیشکه مونږ په هر یوه (د دی دواړو نبیانو) کافران یو.

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب لیکی «د معظمی مکی کفارو چه کله د موسٰی علیه السلام معجزات واوریدل نو په داسی یوه وینا ئی خوله وپرانستله «که له دغه نبی سره هم هم داسی معجزات وی نو مونږ به هغه منل کله چه دوی له یهودانو ځخه پوښتنه وکړه او د «توریت» خبری ئی د دغه نبی په موافقت او له خپلی مرضی ځخه مخالفی واوریدی مثلاً دغه چه بت پرستی کفر دی ـ بعث

بعد الموت حق دی او هر هغه منبوح چه د پاک الله پر نامه ذبح نشی مردار دی او په عربو کښې آخر الزمان نبی مبعوث کیږی چه د هغه نبئی به داسی وی او نور نو داسی ئی وویل چه دغه دواړه دروغجنان دی «توریت» او «قرآن» دواړه سحر دی موسیٰ او محمد علیهما الصلوٰة والسلام (العیاذ بالله) ساحران دی چه یو د بل تصدیق کوی. یا وویل قبطیانو په حق د موسیٰ او هارون کښې چه کودګران دی سره ملګری.

قُلْ فَأْتُوا بِكِتَٰبٍ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ هُوَ أَهْدَىٰ مِنْهُمَآ أَتَّبِعْهُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٤٩﴾

ووایه (ای محمده دوی ته) پس راوړئ تاسی یو داسی کتاب له جانبه د الله چه هغه ښه لاره ښوونکی وی له دغو دواړو کتابونو چه متابعت وکړم زه د هغه (کتاب) که چیری یئ تاسی صادقان رښتینی.

**تفسیر:** په دغه دعوی د تاسی کښې یعنی په آسمانی کتابونو کښې له ګردو (تولو) ځنی لوی او مشهور کتابونه هم دغه دوه کتابونه دی چه له هغوی سره سیالی او برابری بل هیڅ یو کتاب نشی کولی که دغو دواړو ته جادو وایئ نو تاسی بل کوم د الله تعالیٰ کتاب راوړاندی کړئ چه له دغو ځخه ښه او ډیر هدایت لرونکی وی. په فرض محال که تاسی داسی کوم کتاب راوړئ نو زه به د هغه متابعت وکړم لیکن تاسی داسی کتاب تر قیامته پوری هم نشئ راوړی. له دی نه به زیاته بدبختی څه وی چه تاسی پخپله له ربانی هدایته قطعاً بی برخی یئ ! او دغه مقدس کتاب ته چه سره له هدایت درغلی دی کودی وایئ ! او نه ئی منئ کله چه دغه کتاب د یوه انسان جوړ کړی جادو دی نو تاسی د ګرد (تول) جهان جادوګران راتول کړئ او له هغوی ځخه له دغه ځنی لوی جادو جوړ کړئ ځکه چه جادو خو داسی یو شی نه دی چه د هغه مقابله به امکان نه لری.

فَإِن لَّمْ يَسْتَجِيبُوا۟ لَكَ فَٱعْلَمْ أَنَّمَا يَتَّبِعُونَ أَهْوَآءَهُمْ ۚ
وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنِ ٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ بِغَيْرِ هُدًى مِّنَ ٱللَّهِ ۚ إِنَّ
ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٠﴾

پس كه چيرى ونه منله دوى خبره ستا پس پوه شه چه بيشكه هم دا خبره ده چه متابعت كوى دوى د خواهشونو خپلو (بى دليله) او څوك دى ډير گمراه له هغه چا چه متابعت كوى د خواهش خپل بى هدايته له ښوولو د لارى له (طرفه د) الله بيشكه چه الله نه ښيى سمه لاره قوم ظالمانو ته (چه تابع وى د نفسونو او هواؤ خپلو بى دليله).

**تفسير:** يعنى كله چه دغه خلق نه هدايت قبلوى او نه د هغه په مقابل كښى بل كوم شى وړاندى كولى شى ـ نو هم دغه وضعيت د دغى خبرى دليل دى چه دوى داسى مقصود نه لرى چه د هدايت په لاره لاړ شى ـ محض پر خپلو نفسانى خواهشونو تگ كوى او هر شى يى چه زړه غواړى هغه منى او هر هغه شى چه د خپلى مرضى او غوښتنى څخه مخالف او چپ وومى هغه نه منى او ترديدوى ئى نو دلته دغه راښوول كيږى چه داسى هوا پرستانو ظالمانو ته څرنگه هدايت وركاوه كيږى ؟ د الله تعالىٰ عادت د هغه قوم پر هدايت جارى دى چه د هدايت موندلو اراده ولرى او محض هوا او هوس د حق او حقانيت معيار ونه گڼى.

وَلَقَدْ وَصَّلْنَا لَهُمُ الْقَوْلَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٥١﴾

او خامخا په تحقيق پرله پسى ليږلى ده مونږ دوى ته خبره (د پند چه قرآن دى) دپاره د دى چه دوى پند واخلى.

**تفسير:** يعنى څمونږ د وحى سلسله لا له پخوا څخه جارى ده د يوى وحى په تصديق او تائيد مو بله وحى وروسى ليږلى ده ـ او قرآن مو هم په تدريج سره نازل كړى دى او په يوه آيت پسى بل آيت تل راځى ـ مقصد دا دى چه د كافى غور كولو او د پوهيدلو موقع په لاس درشى او د هغه په يادولو كښى درته آسانى او سهولت وى.

اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِهٖ هُمْ بِهٖ يُؤْمِنُوْنَ ﴿٥٢﴾ وَاِذَا يُتْلٰى عَلَيْهِمْ
قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِهٖٓ اِنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّنَآ اِنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلِهٖ مُسْلِمِيْنَ ﴿٥٣﴾

هغه كسان چه وركړى دى مونږ دوى ته كتاب پخوا له دغه (قرآنه) دوى په دغه (قرآن) ايمان راوړى او كله چه ولوست شى (دا قرآن) پر دوى باندى نو

وائي دوی چه ایمان راوړی دی مونږ په دغه (قرآن چه) حق دی (راغلی دی) له (طرفه د) رب څمونږ بیشکه مونږ چه وو مونږ پخوا له نزوله د دغه (قرآن) مسلمانان (په دغه قرآن باندی).

**تفسیر:** یعنی د دغو جاهلانو مشرکانو حال داسی دی چه نه پخوانی کتابونه منی او نه د ورستنو کتابونو منونکی دی. د دوی په مقابل کښی هغو حق پسندو او انصاف خوښونکو کتابیانو ته وګورئ چه دوی هغه دواړه منی پخوا له دی نه ئی په تورات او انجیل یقین لرلو کله چه پاک قرآن نازل شو نو ژر ئی تصدیق وکړو. چه بلاشبه دغه هم حقانی آسمانی کتاب دی. چه زمونږ د الله له جانبه نازل شوی دی. مونږ په ده باندی هم د خپل یقین او اعتماد اعلان کوو. مونږ خو پخوا له دی نه هم د الله تعالیٰ خبری منلی دی. او اوس ئی هم منو. فی الحقیقت مونږ له نن ورځی څخه نه یو مسلمانان بلکه لا له پخوا څخه مسلمانان وو. ځکه چه مونږ په خپلو پخوانو کتابونو هم ایمان لرلو چه په هغو کښی د مخه د دغه آخر الزمان نبی او د دغه عظیم الشان فرقان په متعلق صاف صاف بشارات موجود وو. لهٰذا په هغو پخوا ویلو مونږ پخوا له دی نه بالاجمال مومنان وو. اوس چه دغه تفصیل مو په خپلو سترګو ولیدو لا پری مسلمانان شو.

اُولٰٓئِكَ يُؤْتَوْنَ اَجْرَهُمْ مَّرَّتَيْنِ بِمَا صَبَرُوْا

دغه (یهودان او نصرانیان چه ایمان ئی راوړی دی په قرآن) ور به کړ شی دوی ته اجر د دوی دوه کرته په سبب د دی چه صبر کړی ؤ دوی (او پر خپل ایمان قائم ؤ په دی دواړو کتابونو)

**تفسیر:** یعنی په غرور او استغناء ئی د حق له قبوله مخ نه دی اړولی بلکه هر کله چه حق او صداقت ورسیږی بی تکلفه د تسلیم او اطاعت غاړه ورته ږدی.

**تنبیه:** شیخ الاکبر په فتوحاتو کښی لیکلی دی چه د دغو اهل الکتابو ایمان راوړلو پر خپل نبی علیه السلام دوه ځلی صورت ونیو اول بالاستقلال، دوهم ځلی پر حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د ایمان راوړلو په ضمن کښی ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د ګردو (تولو) پخوانیو انبیاؤ مصدق دی ـ او پر هغو تولو ایمان لرل یو ضروری امر ګنی. او پر حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم هم د دوی ایمان دوه ځلی شو یو هم دغه اوس بالذات او بالاستقلال ـ دوهم پر خپل هم هغه پخوانی نبی د ایمان راوړلو په ضمن کښی ـ ځکه چه هر یو له پخوانیو انبیاؤ د حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د بعثت زیری ورکړی دی او متحداً لا له پخوا څخه یی د محمد صلی الله علیه وسلم رسالت تصدیق فرمایلی دی. نو ځکه هغو خلقو ته به اجر هم دوه ځلی ورکول کیږی. هغه چه په حدیث کښی راغلی دی **«ثلاث یؤتون اجرهم مرتین»**

د هغه د شرح موقع دلته نه ده هغه مو د الله تعالیٰ په فضل سره د «صحیح مسلم» په شرح کښې په تفصیل سره لیکلی ده. او د اشکالاتو په ارتفاع کښې مو زیار (کوشش) ایستلی دی. **فلله الحمد والمنة وبه التوفيق والعصمة**

وَيَدْرَءُونَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ

او دفع کوی دوی په حسنه نیکی سره سیئه بدی

**تفسیر:** یعنی که بل څوک له ده سره بدی کوی دی له هغه سره نیکی او احسان، مروت او شرافت کوی. یا ئی دا مطلب که چیری له دوی نه کوم بد کار صادریږی نو د هغه تدارک په نیکی سره کوی څو د حسناتو پله پر سیئاتو درنه شی.

وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُونَ ﴿٥٤﴾

او له ځینو د هغو مالونو چه ورکړی دی مونږ دوی ته صرفوی ئی (په لاره د الله کښې).

**تفسیر:** او له هغه حلال مال چه پاک الله ورته ورعطاء کړی دی زکوٰة ورکوی. صدقات او خیرات اداء کوی له اقاربو او خپلوانو سره مرسته (مدد) او امداد کوی. لنده دا چه په حقوق العباد کښې هم له سره قصور او لندون نه کوی.

وَإِذَا سَمِعُوا اللَّغْوَ أَعْرَضُوا عَنْهُ وَقَالُوا لَنَا أَعْمَالُنَا وَلَكُمْ أَعْمَالُكُمْ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ لَا نَبْتَغِي الْجٰهِلِينَ ﴿٥٥﴾

او کله چه واوری دوی کومه چتی (بیکاره) خبره نو څنګ کوی دوی له هغی نه او وائی (هغو چتی (بیکاره) ویونکیو ته) دی مونږ ته عملونه څمونږ (له حلمه او صبره) او دی تاسی ته عملونه ستاسی له حماقته او بد ویلو) سلام دی پر تاسی (له طرفه څمونږ له کنځلو او طعنو) نه غواړو مونږ (مجلس او طریقه) د جاهلانو.

**تفسیر:** یعنی که کوم جاهل لغو او چتی (بیکاره) خبری کوی نو دی له هغه سره نه لګیږی او ورته وائی چه بس دی خانه! ستا د دغی خبری جواب مونږ له لری شخه په سلام اچولو سره درکوو. دغه د جهالت او ناپوهی وضعیت مونږ تاسی ته در پریږدو، مونږ پریږده چه پخپلو کارونو کښی مشغول اوسو ستاسی اعمال به ستاسی په مخ کښی او څمونږ اعمال به څمونږ په مخ کښی راځی مونږ ته د دی خبری هیڅ ضرورت نه دی پاتی چه خامخا به ستاسی غوندی له ناپوه خلقو سره لګیږو. محمد بن اسحاق رحمة الله علیه په سیرت کښی لیکلی دی کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په مکی معظمی کښی وو تقریباً شل تنه اشخاص له حبشی څخه د رسول الله د زیارت او د دوی د حال او احوال څخه ځان ته د معلومات حاصلولو لپاره راغلی ؤ څو ئی په تحقیقی دول (طریقه) سره دغه ځان ته راڅرګند کړی چه دوی د څه شان اوصافو سړی دی ؟ دوی له حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ملاقات او مکالمه وکړه. رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی ته عظیم الشان قرآن ولوست چه د هغه په اثر د دوی له سترګو څخه اوښکی وبهیدی او په ډیر شدت او قوت سره د دوی د رسالت تصدیق وکړ او ټول مشرف بالاسلام شو او بیرته حبشی ته لاړل. ابوجهل او نورو مشرکینو پر دوی باندی طعنی وهلی او مسخری ئی پری کولی او داسی به ئی ویل چه «د احمقانو دغی قافلی ته وګورئ چه د دوی نظیر او څاری تر نن پوری هیچیری نه دی لیدلی شوی دوی د یوه سړی د حال د تحقیق دپاره راغلی دی او اوس بیخی پری مین او عاشق او د مریبی په شان ئی ګرځیدلی دی او د هغه په لمسولو ئی خپل پلرنی دین پریښود او اوس بیرته درومی» دوی وویل: «**سلام علیکم لانجاهلکم لنامانحن علیه ولکم ما انتم علیه لم نأل انفسنا خیراً** - پس مونږ تاسی ته سلام درکوو معاف مو کړه مونږ ستاسی د دغه جهالت جواب نه غواړو چه په جهالت سره درکړو. له مونږ او تاسی څخنی هر یو چه په هر حال کښی دی هم هغه د هغه برخه ده - مونږ د خپلو نفسونو د ښیګڼی (فائدی) په غوښتلو کښی هیڅ قصور نه دی کړی» نو د هغه په متعلق دغه آیت نازل شو والله تعالیٰ اعلم. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «له هر هغه جاهل څخه چه د دی خبری توقع نه وی چه دی په سمه لاره راځی او پر پوهولو پوهیږی ځان لری ساتل بهتر دی» موضح.

---

إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ ۚ

---

بیشکه ته (ای محمده!) نشی ښوولی (لاره حقه) هغه چاته چه خوښ وی ستا ولیکن الله سمه صافه لاره ښیی هغه چاته چه اراده وفرمائی (د سمی لاری ښوولو ئی)

---

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب لیکی «چه حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل تره ابو طالب لپاره ډیر زیار (کوشش) وکړو چه د مرګ په وقت کښی د اسلام کلمه ولولی مګر هغه

دغه خبره ونه منله نو د هغه په نسبت دغه آیت نازل شو» (موضح) یعني له هغه چا سره چه ته طبیعي محبت لرې یا ستا زړه غواړي چه هغه هدایت ومومي نو دغه خبره ضروري نه ده چه هم هغسي واقع هم شي. ستا کار یواځي لار ښوونه ده پاتي شو دغه کار چه کوم یو سړی پر هغه لاره درومي او د مقصود تر منزل پوري رسیږي ؟ او کوم یو نه رسیږي ؟ دغه ستاسي د اختیار او له قبضي څخه خارج دی الله تعالیٰ اختیار لري چه د هر چا په نسبت اراده وفرمائي هغه ته د قبول الحق او وصول الی المطلوب توفیق ورکړي.

**تنبیه:** کوم شي چه حضرت شاه صاحب فرمایلي دي په صحیحه ؤ احادیثو کښي شته زیات له هغه پر دغه مسئله کلام او د ابوطالب د ایمان او کفر پر خاص موضوع مباحثه غیر ضروري ده ښه خو به دا وي چه له داسي غیر ضروري او ډک له خطراتو مباحثو څخه چپ شو او تری کف اللسان وشي!.

---

وَهُوَ اَعۡلَمُ بِالۡمُهۡتَدِیۡنَ ﴿٥٦﴾

---

او هم دغه (الله) ښه عالم دی په سمه صافه لاره موندونکیو باندی.

---

**تفسیر:** هیڅ یو سړی د دغي خبری واک (اختیار) او صلاحیت نه لري چه بل څوک پر سمه صافه لاره روان کړي ـ بلکه څوک پر دغه خبره علم هم نه لري چه کوم یو پر سمه لاره راتلونکی دی ؟ یا د راتللو استعداد او لیاقت لري ؟ په هر حال په دغه آیت کښي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته تسلي ورکړی شوی ده چه تاسي د جاهلانو په دغو چټي (بیکاره) ویناؤ او د ضد او عناد پر شورماشور یا د خپل خاص اعزه او اقارب پر نه مسلمانیدلو مه متأثر او مه غمجن کیږئ ! هومره چه ستاسي پر ذمه فرض دی هغه اداء کړئ ! د خلقو استعدادات مختلف دي ـ او دغه خبره د الله تعالیٰ په اختیار او علم کښي ده چه د هغوی څخني کوم یو پر سمه لاره راوستل کیږي.

---

وَقَالُوۡۤا اِنۡ نَّتَّبِعِ الۡهُدٰی مَعَكَ نُتَخَطَّفۡ مِنۡ اَرۡضِنَا ؕ

---

او وائي (کفار د مکي) که چیری متابعت وکړو مونږ د هدایت له تا سره (او ایمان په تا راوړو) نو وابه لوځول شو) او ژر به وشړل شو) له ځمکي خپلي نه

---

**تفسیر:** له هدایت څخني د انسان منع کوونکي څو شیان دي مثلاً د ځان نقصان ـ د مال خوف لکه چه د مکي معظمي مشرکانو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ویلي ؤ بیشکه چه مونږ په دی باندی ښه پوهیږو چه تاسي پر حقاني دین یئ لیکن که مونږ د اسلام دین قبول کړو او له تاسي سره یو ځای شو نو ګرد (تول) عرب به څمونږ دښمنان شي ـ اود چار چاپیر ګرد (تول) اعراب

به پر مونږ هجوم او يرغل راوړی او تول به سره يو ځای کيږی ـ او مونږ به خپله يوه نمری کړی، نه به مو ځان سلامت پاتی شی او نه به مو مال او دولت مأمون او مصئون پاتی وی. د هم دغه جواب په دغه راتلونکی آيت کښی داسی فرمائی.

أَوَلَمْ نُمَكِّن لَّهُمْ حَرَمًا ءَامِنًا يُجْبَىٰٓ إِلَيْهِ ثَمَرَٰتُ كُلِّ شَىْءٍ رِّزْقًا مِّن لَّدُنَّا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٥٧﴾

آيا نه دی ورکړی (ځای) مونږ دوی ته داسی حرم چه په امان دی (له قتل او غارته) راچلولی شوی دی دی (حرم) ته (له هر طرفه) ميوی (دپاره) د هر څيز رزق د دوی له جانبه ځمونږ وليکن اکثر د دوی چه دی نه پوهيږی (په حق).

**تفسير:** حضرت شاه صاحب فرمائی «د مکی معظمی خلقو به ويل که مونږ مسلمانان شو نو د تول عربستان مسکونين به له مونږ سره دښمنان شی. الله تعالیٰ فرمائی که اوس تاسی د هغوی د دښمنی او لاس غځولو څخه د چا په پناه کښی ناست يئ ؟ هم دغه د حرم ادب مانع دی چه سره له دغی سختی دښمنی او عداوت چه تاسی ئی يو له بله سره لرئ ـ اطرافی اعراب پر تاسی يرغل او هجوم نه راوړی چه تاسی له مکی معظمی څخه د باندی وباسی هغه الله چه اوس دغه ځای ئی تاسی ته حرم گرځولی دی په هغه وقت کښی به هم تاسی ته پناه درکوونکی دی (موضح) » آيا سره له کفره او شرکه تاسی ته پناه درکوی او وروسته د ايمان او تقویٰ د اختيارولو څخه به تاسی ته د هغوی له شره پناه او امان نه درکوی ؟ هو! که د ايمان او تقویٰ د ازموينی دپاره يو څو ورځی له تاسی څخه امتحان واخيست شی نو نه ښائی چه تاسی له هغه څخه وويريږئ

﴿ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴾

وَكَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَرْيَةٍۭ بَطِرَتْ مَعِيشَتَهَا ۖ فَتِلْكَ مَسَٰكِنُهُمْ لَمْ تُسْكَن مِّنۢ بَعْدِهِمْ إِلَّا قَلِيلًا ۖ

او څومره (ډير) هلاک کړی دی مونږ له (اهل د) کليو (او ښارونو) چه سرکشی ئی کړی وه په معاش خپل کښی پس دا دی کورونه د دوی چه نه ده کړی شوی هستوگنه په کښی پس له (اهلاک د) هغوی مگر لږ وقت (چه کوم

مسافر کومه شپه هلته دمه کړی ده).

**تفسیر:** یعنی د عرب له دښمنی څخه ولی ویریږئ ـ د الله تعالیٰ له عذابه وویریږئ آیا تاسو نه ګورئ او غور او دقت نه کوئ چه له تاسی څخه پخوا څومره لوی اقوام تیر شوی دی چه هغوی ګرد (تول) پخپل عیش عشرت او خوښی مست او مغرور ؤ نو هر کله چه هغو د تکبر لوئی او سرکشی لاره ځان ته غوره کړه نو وګورئ چه پاک الله دوی څرنګه تباه ـ برباد او فنا کړل چه نن ورځ د دنیا په مخ کښی د هغوی نوم او نښه هم نه ده پاتی تش دغه ویجاړی مینی او کندوالی ئی پاتی دی چه په هغوی کښی هیڅ یو هستیدونکی نشته پرته (علاوه) له دی نه چه کوم مسافر کومه شپه هلته کینی او خپله دمه ونیسی یا کوم پوه او هوښیار سړی د الله د قدرت د دغه عبرتناکی منظری د کتلو دپاره هلته ودریږی.

وَكُنَّا نَحْنُ الْوٰرِثِيْنَ ﴿۵۸﴾

او یو مونږ هم دا مونږ وارثان.

**تفسیر:** یعنی تول سره داسی ووژل شول چه د هغوی یو تن وارث هم بیرته پاتی نه شو هغه چه تل پاتی کیدونکی دی الله تعالیٰ دی او بس.

وَمَا كَانَ رَبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرٰى حَتّٰى يَبْعَثَ فِىٓ اُمِّهَا رَسُوْلًا يَّتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا ۚ

او نه دی رب ستا (عادتاً) هلاک کوونکی (د اهل د دی) قریو تر هغه پوری چه ولیږی په مور (لویه قریه ښار) د هغو (قریو ښار کښی) یو رسول چه لولی پر دوی آیتونه څمونږ (دپاره د قطع کولو د عذر)،

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ تر هغه پوری دغه کلی او ښارونه تباه ـ خراب او فنا نه دی کړی څو د هغو مراکزو او لویو ځایونو کښی کوم هوښیاروونکی نبی نه وی ورلیږلی ـ د مرکز تخصیص ښائی د دی لامله (له وجی) وی چه د هغو اثر تر دیر لری ځای پوری رسیږی او د ښارونو هستیدونکی نسبتاً سلیم او عقیل هم وی د څمکی د مخ د ګردو (تولو) ودانیو مرکز او د صدارت مقام بیت الحرام ؤ لکه چه د «شوریٰ» په اوله رکوع (۲۵) جزء کښی لولو ﴿لِتُنْذِرَ اُمَّ الْقُرٰى وَمَنْ حَوْلَهَا﴾ نو څکه هلته له ګردو (تولو) څنی لوی او د آخر الزمان رسول مبعوث شو

صلی الله تعالیٰ علیه وعلیٰ آله وصحبه اجمعین.

وَمَا كُنَّا مُهْلِكِي الْقُرَىٰ إِلَّا وَأَهْلُهَا ظَالِمُونَ ﴿٥٩﴾

او نه یو مونږ هلاک کوونکی خرابوونکی د کلیو د ښارونو مگر په هغه وقت کښې چه اهل د هغو ظالمان وی (په تکذیب د رسولانو).

**تفسیر:** یعنی هر کله چه سره له پوهولو او هوښیارولو هم خلقو له کفره او شرکه لاس وانخیست او هم هغسی په خپل کفر ـ ظلم ـ طغیان او عصیان کښې چالان او مترقی ؤ دلته د الله تعالیٰ په دغه عذاب اخته او هلاک او سپیره شول.

وَمَا أُوتِيتُم مِّن شَيْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَزِينَتُهَا ۚ وَمَا عِندَ اللَّهِ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٦٠﴾

او هر هغه چه درکړی شوی دی تاسی ته له کوم څیزه پس هغه معاش نفع کار د دغه ژوندون لږ خسیس دی او ښایست د هغه دی او هر هغه چه په نزد د الله دی (اجر) خیر غوره (دی) او باقی دی (له دغه فانی نه) آیا پس تاسی عقل نه چلوئ.
(چه باقی بهتر دی په فانی باندی)

**تفسیر:** یعنی انسان ته ښائی چه له عقل او پوه کار واخلی! او دومره وپوهیږی چه دا ژوندون په دنیا کښې تر کله پوری به وی ؟ او د دنیوی د دغه باغ او بهار عیش عشرت ـ مزی او چړچو خوند به تر څه وقت پوری کوی ؟ فرض ئی کړئ چه په دنیا کښې له سره پر ده عذاب هم رانشی خو بیا هم د مرگی لاس تاسی گرد (تول) له دغه ساز او سامان څخه جلا (جدا) کوی ـ او بیا به د الله تعالیٰ په مخ کښې حاضریږئ او تر یوی یوی ذری پوری هم د خپل اعمالو حساب ورکوئ ـ که مو آخروی عیش او عشرت په برخه شو نو دغه دنیوی عیش عشرت د هغه په مقابل کښې هیڅ او لاشی دی داسی به کوم پوه او عقلمن سړی وی چه یو مکدر او منغض ژوندون ته پر یو بی غشه او غله ژوندون او یو ناقص او فانی لذت ته پر کامل او باقی لذائذو ترجیح ورکوی بلکه نه ئی ورکوی!.

أَفَمَنْ وَّعَدْنٰهُ وَعْدًا حَسَنًا فَهُوَ لَاقِيْهِ كَمَنْ مَّتَّعْنٰهُ مَتَاعَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ثُمَّ هُوَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ مِنَ الْمُحْضَرِيْنَ ﴿٦١﴾

آیا پس هغه څوک چه وعده کړې ده مونږ له هغه سره وعده ښه (چه د جنت ده) پس دی موندونکی دی د هغې وعدې (خامخا داسې دی) لکه هغه څوک چه معاش ورکړی وی مونږه ته معاش د (ژوندون لږ خسیس د) دنیا بیا دی په ورځ د قیامت کښې له حاضر کړیو شویو وی (اور ته ؟ بلکه نه دی سره برابر دوی دواړه !).

**تفسیر:** یعنی مؤمن او کافر دواړه د انجام په اعتبار کله سره یو برابر کیدی شی ؟ د یوه دپاره د دائمی عیش کومه وعده چه شوی ده هغه هرومرو (خامخا) پوره کیدونکی ده او د بل دپاره د څو ورځو عیش او عشرت کولو څخه وروسته د بندی کړی جلب ضروری رسیدونکی او دی به دائمی بندیخانه کښې خامخا لویدونکی دی (العیاذ بالله) مثلاً که یو سړی په خوب کښې ووینی چه «ځما پر سر شاهی تاج ایښی شوی دی، خدم حشم او د ملازمانو انواع او اصناف ماته لاس په نامه د باندی ولاړ دی او هر قسم خواړه او راز راز (قسم قسم) نعمتونه پر دسترخوان ماته تیار ایښوولی شوی دی چه د هغو خوند او مزه در ګرده (توله) څکم او خورم ئی.» که سترګی له خوبه خلاصه وی ګوری چه ورته د بندیتوب جلب وروراندی کیږی او پولیس ورته سره له ځنځیرونو او ځولنو ولاړ وی او سم د لاسه بندی او امنیی ته بیولی کیږی او وروسته د پولیس او د عدلیې له تحقیقاتو او د جرم له اثباته په دائمی حبس سره محکوم او په عمری بندیخانه کښې غورځولی کیږی نو تاسی راوښیئ چه په دغه حالت کښې ده ته هغه د باچاهی خوب او په زړه پوری مکلفه خواړه کله په یاد پاتی کیږی ؟

وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ فَيَقُوْلُ اَيْنَ شُرَكَآءِيَ الَّذِيْنَ كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿٦٢﴾

او یاد کړه هغه ورځ چه غږ به وکړی دوی ته الله پس وبه وائی (الله) چیرته دی شریکان ځما هغه (شریکان) چه وئ تاسی چه ګمان به مو کوو (پری چه دا شریکان ځما دی).

**تفسیر:** یعنی هغه د خدایی برخی لرونکی چیری دی هغوی دی وغوښت شی چه اوس لږ څه د دوی تائید او حمایت وکړی.

قَالَ الَّذِيْنَ حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ رَبَّنَا هٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ اَغْوَيْنَآ اَغْوَيْنٰهُمْ كَمَا غَوَيْنَا ۚ تَبَرَّاْنَآ اِلَيْكَ ۡ مَا كَانُوْٓا اِيَّانَا يَعْبُدُوْنَ ﴿۶۳﴾

وبه وائی هغه کسان چه حقه ثابته شوی ده پر دوی خبره (د عذاب په دخول د اور سره) ای ربه څمونږ دا (ضعیفان تابعان) هغه کسان دی چه گمراه کړی ؤ مونږ (دوی) (گمراه کړی مو ؤ دوی) لکه چه گمراه شوی وو مونږ بیزاره یو مونږ تاته (له دوی او له کفره د دوی) نه ؤ دوی داسی چه څمونږ عبادت به ئی کوو (بلکه عبادت د هوا د نفس خپل ئی کوو).

**تفسیر:** یعنی سؤال خو له مشرکینو څخه ؤ مگر گمراه کوونکی شرکاء به داسی پوهیږی چه فی‌الحقیقت مونږ ته هم تنبیه راکړی شوی ده نو ځکه په جواب ورکولو کښی سبقت کوی چه ای الله بیشکه چه مونږ دوی گمراه کړی دی مگر دا گمراهی خو داسی ده لکه چه مونږ پخپله گمراهان شوی یو یعنی هغه بودری (تکره) چه د گمراهی په وقت کښی مونږ خوړلی وه د هغه تکمیل مو په دغه گمراهی سره وکړ ځکه چه د بل گمراه کول هم د گمراه کیدلو آخری درجه ده پس د دغو اغواؤ پر جرم مونږ اعتراف لرو لیکن پر دغو مشرکانو خو څمونږ له لوری هیڅ کوم جبر او اکراه نه وه ـ او نه مو هغوی په زوره دغی گمراهی ته اړولی دی فی‌الحقیقت دغه د دوی نفسی اغراض او شخصی هوا پرستی وه چه څمونږ په غولولو وغولیدل او پر مونږ پسی رهی (روان) شول. نو په دغه اعتبار دوی څمونږ د عبادت په ځای د خپلو اهواؤ او ظنونو په عبادت کښی لگیا ؤ. مونږ د دوی له عبادته څخه نن ورځ ستاسی په حضور کښی د خپلی بیزاری او تنفر اظهار کوو. **کذا قال بعض المفسرین.** او حضرت شاه صاحب لیکی «چه دغه به د شیطان وینا وی چه هغوی می گمراه کړی دی مگر د نیکیو په نامه نو هم ده ته وائی چه دوی خو څمونږ عبادت نه کاوه» والله تعالیٰ اعلم.

**تنبیه:** ﴿حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ﴾ څخه مراد ﴿لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ﴾ دی.

وَقِيْلَ ادْعُوْا شُرَكَآءَكُمْ فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَهُمْ

او وبه ویلی شی (کفارو ته) چه وغواړئ تاسی شریکان د تاسی پس راوبه غواړی دا (کفار هغه بتان) پس هیڅ جواب به ور نه کړی (دا بتان) هغوی ته

**تفسیر:** یعنی دوی ته به ویل کیږی چه اوس خپل مددگاران خپلی مرستی (مدد) ته راوبولئ مگر

هغوی به د دوی سره څه مرسته (تعاون) او مدد وکړی شي ـ ځکه چه په خپل غم او مصیبت
کښې به اخته او مبتلا وی **کذا قال المفسرون** او د حضرت شاه صاحب د تحرير حاصل دا
دی کله چه شياطين د نيکانو نوم واخلی نو مشرکينو ته به ويل کيږی چه خپلو هغو نيکانو ته
ورناری کړئ! نو دوی به هيڅ جواب نشی ويلی ځکه چه دوی د هغه د شرک او کفر پر حرکاتو
نه ؤ خوښ او نه تری راضی ؤ يا به تری بيخبره ؤ.

وَرَاَوُا الْعَذَابَ ۚ لَوْ اَنَّهُمْ كَانُوْا يَهْتَدُوْنَ ﴿٦٤﴾

او وبه وينی دغه (تابعان او متبوعان) عذاب، که چيری بيشکه دوی وی چه
سمه صافه لاره ئی نيولی وی (نو اوس به نه معذب کيدل يا کاشکی په کوم
دول (طريقه) مو لاره موندلی وی).

**تفسير:** يعنی د دغه وقت د عذاب د ليدلو څخه به داسی آرزو او تمنا کوی کاشکی زه په دنيا
کښې پر سمه صافه لاره تلی تر څو په دغو مصائبو نه اخته او نه مبتلا کيدی.

وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ فَيَقُوْلُ مَاذَآ اَجَبْتُمُ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٦٥﴾
فَعَمِيَتْ عَلَيْهِمُ الْاَنْۢبَآءُ يَوْمَئِذٍ فَهُمْ لَا يَتَسَآءَلُوْنَ ﴿٦٦﴾

او ياده کړه هغه ورځ چه غږ به وکړی دوی ته (الله) پس وبه وائی چه څه
جواب ورکړی ؤ تاسی رسولانو ته (په هغه وقت کښې چه حق ته غوښتی شوی
وئ)؟ پس پټ به شي پر دوی خبرونه (چه دوی خلاص شي په دغه ورځ کښې
پس دوی به نه کوی پوښتنه يو تر بله.

**تفسير:** پخوانی سوالات د توحيد په نسبت ؤ. دغه د رسالت په نسبت سوال دی يعنی که تاسی
پخپل عقل او پوه سره په حق نه وی پوهيدلی نو د انبياؤ په پوهولو خو ښائی پوهيدی. دا
راوښيئ چه تاسی له هغو سره څه سلوک او رويه کړی ده؟ په دغه وقت کښې به هيڅوک هيڅ
جواب نشی ورکولی او د خبرو ګردی (تولی) لاری به بندی شي. (او پټ به شي په دوی جواب).

فَاَمَّا مَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَعَسٰٓى اَنْ يَّكُوْنَ مِنَ الْمُفْلِحِيْنَ ﴿٦٧﴾

پس هر څه هغه څوک چه توبه وباسي (له شرکه) او ایمان راوړي (په الله او رسول د الله) او عمل وکړي د نیکیو پس ښائي چه وي به دی له خلاصیدونکیو.

**تفسیر:** یعني د هغه ځای بري او کامیابي صرف له ایمان او صالح عمل سره ده که اوس هم څوک له کفره او شرکه توبه وباسي او ایمان راوړي او د نیکیو لاره ځان ته غوره کړي حق تعالیٰ د ده تول پخواني ګناهونه معافوي او فائزالمرام ئې ګرځوي.

**تنبیه:** ﴿ فَعَسَىٰٓ أَن يَكُونَ مِنَ ٱلْمُفْلِحِينَ ﴾ د مالک الملکوتي په لهجه سره یوه وعده ده. یعني هغه ته د فلاح او نجات امید پکار دی. پر مونږ باندی د هیڅ زور نه چلیږي چه خامخا مو د هغه په کولو مجبور کړي مونږ محض په خپل فضل او کرم سره دغسي وعدې کوو.

وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ ۗ مَا كَانَ لَهُمُ ٱلْخِيَرَةُ ۚ

او رب ستا پیدا کوي هغه څه چه اراده وفرمائي (د پیدایښت ئې) او غوره کوي ئې نه دی دوی ته هیڅ اختیار (په هیڅ شي کښې):

**تفسیر:** یعني د هر څیز پیدا کول د الله تعالیٰ په مشیت او اختیار کښې دي او د کوم شي غوره کول یا د نورو له منځه د هغه جلا (جدا) او منتخب کولو حق هم ده ته حاصل دی. او هر قسم چه الله تعالیٰ اراده وفرمائي او مرضي ئې وي هم هغسي احکام صادروي. هر یو سړي په هر یو منصب سره چه دی مناسب او لازم وبولي هم هغه کار او منصب ورته عطاء کوي، په هر چا کښې چه استعداد او لیاقت وګوري نو د هدایت پر سمه لاره یې برابره وي او د مقصود تر منزله پوري په رسیدلو سره ئې بري او کامیابي ور په برخه کوي د مخلوقاتو په هر جنس کښې هره یوه نوعه یا په نوعه کښې هر یو فرد چه وغواړي سم له خپل حکمته سره هغه له نورو انواعو او افرادو څخه ممتازوي ماسواء الله څخه بل هیچا ته د هسي اختیار او انتخاب حق نه دی حاصل. حافظ ابن القیم د «زادالمعاد» په اوائلو کښې دغه مضمون په ډیر بسط او تفصیل سره لیکلی دی. فلیراجع.

سُبْحَٰنَ ٱللَّهِ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٦٨﴾

پاکي ده الله لره او لوی پورته دی له هغه څه چه دوی ئې ورسره شریکوي.

**تفسیر:** یعنی په تخلیق او تشریع او مذکور اختیار کښی بل هیڅوک له الله تعالیٰ سره نه دی شریک. مشرکانو چه پخپل تجویز او انتخاب کوم شرکاء درولی او تاکلی (مقرر کړی) دی هغه ګرد (ټول) باطل او بی سنده دی.

وَرَبُّكَ يَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمْ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٦٩﴾

او رب ستا ته معلوم دی هر هغه چه پټوی ئی سینی (زړونه) د دوی او هر هغه چه ښکاروی ئی (ژبی د دوی).

**تفسیر:** یعنی په زړونو کښی کومی باطلی او فاسدی عقیدی یا بد نیتونه چه لری! او په ژبه سره کومی خبری چه وایی! او په لاسو او پښو او نورو سره کوم کارونه چه کوی دا ګرد (ټولو) د الله تعالیٰ په علم کښی موجود دی او د هر یوه سړی له پټو استعدادو او قابلیتونو څخه ښه خبردار دی او سم له هغه به معامله ورسره کوی.

وَهُوَ اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ لَهُ الْحَمْدُ فِي الْأُولَىٰ وَالْآخِرَةِ ۖ وَلَهُ الْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٧٠﴾

او هم دی الله دی نشته بل لائق د عبادت مګر هم دی دی. خاص هم ده ته توله ثناء ده په دنیا او (په) آخرت (عقبیٰ) کښی او خاص هم دغه (الله) ته دی حکم او خاص هم دغه (الله) ته به بیولی شئ تاسی (په قیامت کښی).

**تفسیر:** یعنی هم هغسی چه الله تعالیٰ په تخلیق او اختیار او محیط علم کښی متفرد دی په الوهیت کښی هم واحد او یو دی ماسواء له ده بل هیڅا ته بندګی او عبادت نه کیږی ځکه چه د ده په منبع الکمالات ذات کښی ګرد (ټول) محاسن او محامد مجموع دی ـ په دنیا او عقبا کښی هر راز (قسم) تعریف او توصیف چه وی اعم له دی نه چه پر هر اسم او رسم سره وکړ شی هغه په حقیقت او واقع کښی له هم دغه پاک الله سره نسبت لری او د ده تعریف دی او د ده په حکم سره چلیږی. د ده فیصله ناطقه ده ـ او دی د کلی اقتدار مالک دی او په آخره خاتمه کښی د هر چا رجوع د هم ده په لوری ده. وروسته له دی نه دغه راښیی چه په شپه او ورځ کښی څومره نعمتونه او فوائد تاسی ته عاید کیږی چه دغه ګرد (ټول) د ده له فضله او انعامه دی بلکه بالذات د شپی او د ورځی تبدیل او تحویل د رب الجلیل له بی مثلو او مستقلو

احساناتو او انعاماتو څخه دی.

قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ الَّيْلَ سَرْمَدًا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَاْتِيْكُمْ بِضِيَآءٍ ؕ

ووایه (ای محمده دوی ته) آیا وینئ (یعنی خرنګه در ښکاری) که چیری وګرځوی الله پر تاسی دغه شپه اوږده همیشه تر ورځی د قیامت پوری نو څوک دی هغه (معبود) بی له الله چه راوړی تاسی ته رڼا (رنړا) (چه په کښی طلب د معاش کوئ)

تفسیر: یعنی تاسی خبر راکړئ ! که مثلاً الله تعالیٰ پری نه ږدی چه لمر طلوع وکړی یا ئی رڼا (رنړا) او تودوخی تری لری کړی نو تاسی به د خپلو کارونو او چارو لپاره داسی تودوخی او رڼا (رنړا) له کومه راوړئ؟

اَفَلَا تَسْمَعُوْنَ ﴿۷۱﴾

آیا پس نه اورئ تاسی (دغه خبره د زړه په غوږو سره؟).

تفسیر: یعنی دا خبره دومره روښانه او صافه ده چه تش په یوه اوریدلو سره هم په فهم او پوه راځی نو آیا تاسو له سره نه اوری.

قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ النَّهَارَ سَرْمَدًا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَاْتِيْكُمْ بِلَيْلٍ تَسْكُنُوْنَ فِيْهِ ؕ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ﴿۷۲﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) آیا وینئ تاسی (یعنی خرنګه در ښکاری) که چیری وګرځوی الله پر تاسی ورځ اوږده همیشه تر ورځی د قیامت پوری (چه هیڅ غروب الشمس ونشی) نو څوک دی (معبود) بی له الله چه راوړی تاسی ته شپه چه آرام وکړئ تاسی په هغه کښی آیا پس نه وینئ تاسی (دا آثار د قدرت).

**تفسیر:** یعنی تاسی خبر راکړئ! که الله تعالیٰ پری نهږدی چه لمر غروب وکړی او تل ترتله ستاسی پر سرونو هم داسی ولاړ وی نو هغه راحت او سکون او نور فوائد چه د شپی له راتلو څخه حاصلیږی د هغو حصول به په کوم یو طاقت سره ممکن کیدی شی؟ آیا دغسی یو ظاهر او باهر حقیقت هم تاسی نشئ لیدلی؟

**تنبیه:** ﴿ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴾ له ﴿ إِن جَعَلَ اللَّهُ عَلَيْكُمُ النَّهَارَ سَرْمَدًا ﴾ سره مناسب دی ځکه چه په سترګو سره لیدل عادتاً پر رڼا (رنړا) موقوف دی چه په ورځی کښی په پوره ډول (طریقه) سره په عمل راځی د شپی په تیاره کښی کله چه د لیدلو هیڅ یو صورت نشته بلکه اوریدل په کښی امکان لری نو ځکه ﴿ إِن جَعَلَ اللَّهُ عَلَيْكُمُ الَّيْلَ سَرْمَدًا ﴾ سره د ﴿ أَفَلَا تَسْمَعُونَ ﴾ فرمایل موزون ؤ والله اعلم.

وَمِن رَّحْمَتِهِۦ جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ لِتَسْكُنُوا۟ فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٧٣﴾

او (خاص) له رحمته مهربانی خپلی پیدا کړی ده (الله) تاسی ته شپه او ورځ دپاره د دی چه آرام وکړئ تاسی په هغه (شپه) کښی او چه ولټوئ تاسی (په دغه ورځ کښی) له فضله د دغه (الله) او دپاره د دی چه شکر وکړئ تاسی (د نعماؤ د الله).

**تفسیر:** یعنی د شپی او د ورځی اړول راړول کوی څو د شپی په تیارو او یخو کښی مو سکون او راحت په برخه شی او د ورځی په رڼا (رنړا) کښی خپلو کارو او چارو ته هم دوام ورکړی شئ ـ او د شپی او د ورځی پر مختلف الانواعو انعاماتو د الله تعالیٰ د انعاماتو شکر اداء کړئ.

وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَآءِىَ ٱلَّذِينَ كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ﴿٧٤﴾
وَنَزَعْنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا فَقُلْنَا هَاتُوا۟ بُرْهَٰنَكُمْ
فَعَلِمُوٓا۟ أَنَّ ٱلْحَقَّ لِلَّهِ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَفْتَرُونَ ﴿٧٥﴾ ع

او (یاده کړه) هغه ورځ چه غږ به وکړی دوی ته (الله) پس وبه فرمائی چیرته

دی شریکان ځما هغه چه وئ تاسي چه گمان به مو کاوه (پری د شریکانو ځما). او راوبه باسو له هر امت (ملت) څخه یو شاهد (پر اقوالو، افعالو، احوالو د دوی)، پس وبه وایو مونږ دوی ته راوړئ تاسي برهان سند خپل (په اشراک) پس هلته به پوه شي دوی چه حق (په الوهیت کښي) خاص الله لره دی او ورک به شي له دوی نه هغه چه ؤ دوی چه دروغ به ئې جوړول (په دنیا کښي چه الله شریک لری).

**تفسیر:** له شهید څخه احوال ښوونکی انبیاء علیهم السلام یا د دوی نائبان یا نور ښه سری مقصود دی (موضح) دوی به دغه راښیي چه خلقو له سماویه ؤ شرایعو او له الهیه ؤ احکامو سره څه رویه کړی ده؟ نو فرمائي الله چه وبه وایو مونږ دوی ته چه راوړی برهان سند خپل چه تاسی په کوم دلیل او سند سره الله تعالیٰ ته شریکان درولی دی؟ او د حلالو او د حرامو او نورو احکامو صحیح مأخذ مو له کوم ځای څخه اخیستی دی؟ کله چه مو نبی ونه مانه نو دغه خبره چا درښوولی وه چه دغه د الله تعالیٰ احکام دی او هغه حرام او هغه حلال دی پس هلته به پوه شي دوی چه حق خاص الله تعالیٰ لره دی او ورک به شي له دوی نه هغه چه ؤ دوی چه دروغ به ئې جوړول یعني په هغه وقت کښي به دغه په نظر راځي چه رښتیا خبره د پاک الله ده او معبودیت هم یواځې د هم ده حق دی او بل هیڅوک د ده شریک نشي کیدی هغه خبری چه په دنیا کښي انبیاؤ علیهم السلام ښوولی وی هم هغه حقی او رښتیا وی هغه عقائد او افکار چه مشرکانو له خپل لوری جوړکړی وو هغه گرد (تول) به هغه ورځ کښي بی اثره او ناقص او بی کاره ثابتیږی.

إِنَّ قَارُونَ كَانَ مِن قَوْمِ مُوسَىٰ فَبَغَىٰ عَلَيْهِمْ ۖ وَآتَيْنَاهُ مِنَ الْكُنُوزِ مَا إِنَّ مَفَاتِحَهُ لَتَنُوءُ بِالْعُصْبَةِ أُولِي الْقُوَّةِ إِذْ قَالَ لَهُ قَوْمُهُ لَا تَفْرَحْ ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْفَرِحِينَ ﴿٧٦﴾

بیشکه چه قارون ؤ له قومه د موسیٰ (یعني د ده تربور ؤ) پس سرکشي وکړه (قارون) پر دغو (بني اسرآئیلو) او ورکړی ؤ مونږ ده ته له خزانو دومره قدر چه بیشکه کلیگانی د هغو به خامخا درنیدلی پر (داسي یوی) ډلی چه خاوندان د قوت زور به ؤ (یاد کړه) هغه وقت چه وویل دغه (قارون) ته قوم د ده (چه مسلمانان ؤ په کبر او غرور سره) مه خوشالیږه! بیشکه چه الله نه خوښوی خوشالیدونکی (په مال د دنیا).

**تفسیر:** د سابقی رکوع په شروع کښې د دنیا د بی ثباتی او حقارت د آخرت په مقابله کښې بیان کړی شوی ؤ بیا د آخرت د ذکر په مناسبت د آخرت د عالم څه احوال بیان کړ شو په حاضره رکوع کښې بیا د هم هغه اصلی مضمون په طرف عود کړی شوی دی او د هغې دعوی په استشهاد د قارون قصه اورولی شی. وائی چه قارون د حضرت موسٰی علیه السلام د تره ځوی یا تربور او د فرعون د مخی سرِی ؤ، څرنګه چه د ظالمو حکومتونو دستور وی چه د کوم قوم د وینی څښلو لپاره د هم هغه قوم ځینی افراد د خپل کار آله او د لاس همسا ګرځوی فرعون هم په بنی اسرآئیلو کښې هم دغه ملعون ځان ته غوره کړی ؤ. قارون په دغه موقع کښې چه فرصت موندلی ؤ پخپلو دواړو لاسو سره د دولت او دنیا په تولولو کښې لګیا شوی ؤ او ډیر لوی دنیوی اقتدار ئی ځان ته ګټلی ؤ څه وخت چه بنی اسرآئیل د حضرت موسٰی علیه السلام تر حکم او ارادی لاندی راغلل او فرعون سره له فرعونیانو مغروق شول نو د قارون د مال د ترقی ذرایع هم مسدود شول او هغه مشری او سرداری ئی له لاسه ووتله نو د هم دغه غیظ ـ غضب ـ حسد له سببه به ئی زیاتره له حضرت موسٰی علیه السلام سره سری مخالفت او پټه دښمنی کوله خو سره د دغه هم په ښکاره ډول (طریقه) سره مؤمن ښکاریده، توریت به ئی ډیر لوست او د دینی علومو په حصول کښې به مشغول ؤ مګر زړه ئی صاف نه ؤ، د حضرت موسٰی علیه السلام او د هارون علیه السلام هغه عزت او حرمت ته به ئی چه د پاک الله له طرفه دوی ته عطاء او مرحمت شوی ؤ، کاته او کړیده ـ او سوځیده به ـ او لکه تور منګور پر خپل ځان له تاوه تاویده او له خپله ځانه سره به ئی ویل چه آخر زه هم د دوی د تره ځوی یم نو دغه څه خبره ده چه هغه دواړه نبیان او مذهبی سرداران ګرځیدلی دی او ځما په لاس کښې هیڅ د قدرت قوت نشته کله چه نا امیده او مأیوس کیده نو د تکبر په وضیعت به ئی داسی ویل «ښه دی که هغو دواړو ته نبوت وررسیدلی دی نو څه وشو له ماسره د مال او دولت دومره ډکی خزانی شته چه له بل هیچا سره نشته.» حضرت موسٰی علیه السلام یو ځلی پر قارون حکم وکړ چه «د خپل مال زکوة اداء کړه!» نو قارون له خلقو سره وویل «تر اوسه پوری کوم احکام چه موسٰی پر مونږ جاری کول د هغه په مقابل کښې مو حوصله او تحمل کاوه مګر آیا تاسی اوس د موسٰی علیه السلام د دغی خبری تحمل هم کولی شئ چه دی ځمونږ د اموالو څخه زکاتونه هم غواړی؟» څه خلق د قارون مؤیدان شول او ویل ئی چه نه ځمونږ له لاسه دغه نه ده پوره. بالاخر ملعون قارون د حضرت موسٰی علیه السلام د بدنام کولو له پاره یوه ډیره ناپاکه او چټله پلمه (تدبیر) جوړه کړه او یوی بدکاری ښځی ته ئی څه بدی او پیسی ورکړی او وی لمسوله چه د خلقو په یوه لویه جرګه کښې کله چه موسٰی علیه السلام د زناء د حد په اطراف بیانات ورکوی ته هغه له خپله ځانه سره متهم کړه ـ لکه چه دغی پلیتی ښځی په هم هغه لویه مجمع کښې هم داسی یوه چټی (بیکاره) خبره وکړله کله چه حضرت موسٰی علیه السلام هغی ته شدید قسمونه ورکړل او د الله تعالیٰ له قهره او غضبه ئی وویروله نو هغه وویریده او په ښکاره ډول (طریقه) سره ئی وویل چه ما دغه د قارون په لمسولو سره ویلی دی دلته قارون د حضرت موسٰی علیه السلام په ښیرا سره له خپله کوره او

خزانو په ځمکه خښ او دوب کړل شو. د «مفاتح» تفسیر په کنجیو (کلیو) سره کړی دی یعنی د اموالو دومره صندوقونه ورسره ؤ چه د هغو د کلیگانو په پورته کولو ځو زورور کسان ستړی کیدل او دغه دومره مستبعد هم نه ؤ لکه چه په ځینو تفاسیرو کښی د هغه صورت هم ښوولی شوی دی.

﴿ إِذْ قَالَ لَهُ قَوْمُهُ ﴾ الآية - یاد کړه هغه وقت چه وویل دغه قارون ته قوم د ده چه مسلمانان ؤ په کبر او غرور سره مه خوشالیږه بیشکه چه الله نه خوښوی خوشالیدونکی په مال د دنیا) یعنی پر دغه فانی او زائل دولت ولی نازیږی او پری فخر او غرور کوی؟ چه هغه د الله تعالیٰ په نزد د میاشی د یوه وزر په اندازه هم وقعت نه لری ښه وپوهیږه چه الله تعالیٰ مغرور او متکبر بنده نه خوښوی او هر هغه شی چه د ده مالک الملکوت خوښ او پسند نه وی د هغه نتیجه ماسواء له تباهی او هلاکت بل هیڅ شی نه دی.

وَابْتَغِ فِيمَا آتَاكَ اللَّهُ الدَّارَ الْآخِرَةَ

او وغواړه په هغه (دولت) چه درکړی دی تاته الله کور د آخرت

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ ورکړی مال د دی دپاره دی چه انسان هغه د آخرت خپله پنګه وګرځوی نه داسی چه د هغه د غفلت په نشو مست مغرور او متکبر شی او د متکبرانو په شان حرکت او وضعیت اختیار کړی.

وَلَا تَنسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا وَأَحْسِن كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ

او مه هیروه برخه خپله له (ماله د) دنیا او احسان کوه (له بندګانو د الله سره په ورکړه د مال) لکه چه احسان کړی دی الله له تاسره (چه داسی ډیر دولت ئی درکړی دی)

**تفسیر:** یعنی سم د خپلی برخی سره تری خوره! او ښښه! او اغونده! او د آخرت دپاره دی پنګه تری واخله! او په ناروا مواردو کښی ئی مه لګوه! او د خلق الله سره ښه سلوک کوه!.

وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الْأَرْضِ ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ ﴿٧٧﴾

او مه غواړه (ای قارونه!) فساد (په تکبر ظلم بغی سره) په ځمکه کښی بیشکه چه الله نه خوښوی فساد کوونکی.

**تفسیر:** یعنی له حضرت موسٰی علیه السلام سره ضد مه کوه! د الله تعالیٰ پر ځمکه د مطیعانو په شان گرځه! او خامخا په بلاد الله کښې شورماشور او غلغله مه جوړوه! ځکه چه په ملک کښې فتنه او فساد اچول ښه کار نه دی.

قَالَ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلْمٍ عِندِىٓ ۚ

وویل (قارون قوم خپل ته) بیشکه هم دا خبره ده چه راکړی شوی دی ماته دغه مال په هغه علم سره چه ما ښخه دی،

**تفسیر:** یعنی هنرمن وم او د گټلو استعداد او سلیقه می درلوده (لرله) ـ پخپل لیاقت او قابلیت یا د کوم خاص علمی مهارت لامله (له وجی) ماته دغه دولت حاصل شوی دی الله تعالیٰ هم ماته ځما د لیاقت او اهلیت په ملحوظ دغه مال ـ دولت او شته راکړی دی او دغه ثروت په خوشی چتی (بیکاره) ناسته بی له محنته ماته په لاس نه دی راغلی چه اوس ئی زه د موسٰی په حکم او مشوره خوشی ویریا د الله تعالیٰ په نامه لگوم.

أَوَلَمْ يَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ قَدْ أَهْلَكَ مِن قَبْلِهِۦ مِنَ ٱلْقُرُونِ مَنْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُ قُوَّةً وَأَكْثَرُ جَمْعًا ۚ

آیا نه پوهیده (قارون) چه بیشکه الله په تحقیق هلاک کړی دی په خوا له دغه (قارون ښخه) له (اهل د) زمانو هر هغه څوک چه دی ډیر سخت ؤ له دی (قارون) ښخه له جهته د قوت او ډیر ؤ له جهته د جمع کولو (د مال یا ملاتړه)

**تفسیر:** یعنی د دولت گټلو لیاقت چا درکړ؟ افسوس دی چه تا د حقیقی منعم احسان هیر کړ او د هغه په درکړی دولت او لیاقت مغرور شوی آیا ده دغه دولت له خپل نجات وسیله او ضامن گڼلی ؤ؟ او دی په دغه نه ؤ خبر چه د ده ښخه پخوا ځومره ملل او اقوام له خپلو هم داسی شرارتونو او سرکشیو له سببه هلاک او تباه شوی دی چه د هغوی په لاسو کښې لوی لوی سلطنتونه او ډیری زیاتی خزانی ـ لښکری او نور زیات دنیوی وسائل او وسائط ؤ. آیا دغه ملعون د هغو د احوالو د اوریدلو ښخه پند او عبرت نه دی اخیستی؟

وَلَا يُسْـَٔلُ عَنْ ذُنُوبِهِمُ الْمُجْرِمُونَ ﴿٧٨﴾

او نه به شي پوښتيدلى له ګناهونو خپلو څخه کافران (ځکه چه الله ته معلوم دى).

**تفسير:** يعنى پوښتنى ته به ضرورت نه وى پاتى الله تعالىٰ ته د دوى ګناهونه يو په يو معلوم دى او له پرښتو سره هم ليکلى پراته دى هو! که د توبيخ او تقريع په ډول (طريقه) کوم وقت کوم سؤال له دوى نه وشى نو هغه بيله خبره ده. يا خو دغه کنايه ده د ګناه له کثرته يعنى د دوى ګناهونه به دومره ډير او زيات وى چه دغه ته به ضرورت نه وى پاتى چه د يوى يوى جزئى پوښتنه له دوى څخنى وکړه شى. حضرت شاه صاحب ليکى «پوښتنى به نه کيږى له ګناه يعنى له ګناهګار څخه ځکه که د ده په پوه او عقل کښى څه نقصان نه وى نو ګناه به ئى نه اختياروله کله چه د دوى په پوه او عقل کښى نقص او خرابى ده نو پر دغسى ناپوهانو د الزام اړولو څخه څه فائده مرتبه کيدى شى؟ که دوى د هغو بدو کارو په بدى پوهيدل نو ولى به ئى کول» (موضح).

فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوْمِهِ فِي زِينَتِهِ ۖ قَالَ الَّذِينَ يُرِيدُونَ الْحَيَاةَ
الدُّنْيَا يَا لَيْتَ لَنَا مِثْلَ مَا أُوتِيَ قَارُونُ إِنَّهُ لَذُو حَظٍّ عَظِيمٍ ﴿٧٩﴾

پس راووت (قارون) پر قوم خپل په زينت ښائست (او دج خپل) وويل هغو کسانو چه غوښت ئى دغه ژوندون (لږ خسيس د) دنيا اى کاشکى چه وى مونږ ته هم (له ثروته) په شان د هغو (اموالو اتباعو) چه ورکړى شوى دى قارون ته بيشکه چه دغه (قارون) خامخا خاوند دى د برخى لوئى (له دنيا څخه).

**تفسير:** يعنى قارون خپل فاخره لباس واغوست او سره له ډيرو خدمو او حشمو او په ډير شان او شکوه او جل او بل ووت چه د هغه د ليدلو څخه د دنيا د طالبانو سترګى ړدى بدى پاتى شوى او ګرد (تول) ورته هک حيران ودريدل او له خپلو ځانونو سره به ئى داسى ويل «کاشکى چه مونږ هم د داسى دنيوى شان او شوکت خاوندان وى! او هم داسى ترقى او عروج مو حاصل کړى وى چه نن د قارون په برخه شوى دى. بيشکه چه دى ډير د اقبال او اجلال خاوند او ډير خوش قسمته سړى دى».

وَقَالَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ وَيْلَكُمْ ثَوَابُ اللّٰهِ خَيْرٌ لِّمَنْ اٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا

او وویل (دوی ته) هغو کسانو چه ورکړی شوی ؤ (هغوی ته) علم فهم چه افسوس دی تاسی ته (ای طلابو د دنیا) ثواب د الله خیر ډیر غوره دی هغه چاته چه ایمان ئی راوړی دی (په الله او رسول الله) او عمل ئی کړی دی د نیکیو،

**تفسیر:** یعنی پوهانو او ذی علم سړیو وویل چه «ای کمبختانو! په دغه فانی جل وبل کښی څه ایښی دی چه د هغه هوس او ارمان کوئ؟ صالحانو مؤمنانو له پاره د الله تعالیٰ په دربار کښی کوم دولت او عزت چه شته او دوی ته وررسیدونکی دی د هغه په مقابل کښی دغه دنیوی شان او شوکت محض هیڅ او لاشی دی او دومره یو نسبت هم سره نه لری لکه چه د یوی ذری نسبت له لمر سره کیږی».

وَلَا يُلَقّٰهَآ اِلَّا الصّٰبِرُوْنَ ۝

او نشی ښوولی ورکولی دغه (خبره) مګر صبر کوونکیو ته (په طاعت او مصیبت او له معصیته)

**تفسیر:** یعنی له دنیا څخه آخرت هم هغه ښه او بهتر ګڼی چه دنیوی محنت پر ځان برداشت کولی شی او بی صبره خلق د حرص او طمع له سببه په دنیوی هوس او ارمانو پسی شنه ناست دی. نادان انسانان دنیوی هوسائی (آرام) او راحت ته چه ګوری داسی ګڼی هر څوک چه د آرامی او هوسائی (راحت) خاوند دی هغه ډیر بختور او خوش قسمته سړی دی. نو ځکه د شپی او د ورځی د هم هغه په فکر او تشویش کښی اخته او مشوش اوسیږی ـ او د آخرت د ذلت او د اخروی زحمت او په سلهاؤ ځایو کښی خپل خوشامد او مداهنت ته غور نه کوی او نه ګوری چه دغه دنیوی عیش او عشرت او آرامی وروسته د شلو یا څلویښتو کلونو پای (آخر) ته رسیږی او بیا د ده په زرهاؤ نور کلونو پر تیرو ازغو او راز راز (قسم قسم) ربړونو (تکلیفونو) کښی تیریږی. (موضح بتغییر یسیر).

فَخَسَفْنَا بِهٖ وَبِدَارِهِ الْأَرْضَ فَمَا كَانَ لَهٗ مِنْ فِئَةٍ يَّنْصُرُوْنَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُنْتَصِرِيْنَ ﴿۸۱﴾

پس ننه ایست موږ دغه (قارون) او کور د ده په ځمکه کښې پس څه نه ؤ ده ته (په دغه وقت کښې) هیڅ ډله (د دوستانو) چه مددګاری ئې کړی وی له ده سره غیر له الله څخه (په دفع د عذاب کښې) او نه ؤ (قارون پخپله) له بدل اخیستونکیو څخه (چه ځان ئې له عذابه خلاص کړی وی).

**تفسیر:** یعنی نه بل څوک له خپله طرفه د ده مدد ته ورسید او نه ئې څوک د خپل مدد لپاره وغوښتی شو، نه ئې خپل قوت په کار ورغی نه د بل چا.

وَاَصْبَحَ الَّذِيْنَ تَمَنَّوْا مَكَانَهٗ بِالْاَمْسِ يَقُوْلُوْنَ وَيْكَاَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ وَيَقْدِرُ

او صبا کړ هغو کسانو چه آرزو به ئې کوله د مرتبې د دغه (قارون) په پرون (ماښام) کښې ویل به ئې (یو بل ته) افسوس دی تاته پوه شه! چه بیشکه الله فراخوی رزق روزی هر هغه چاته چه اراده وفرمائی (د ارتولو ئې) له بندګانو خپلو او تنګوی (الله دغه روزی په هر چا چه اراده وفرمائی د تنګولو ئې)

**تفسیر:** یعنی هغه کسان چه د قارون ترقی او ترفع د لیدلو څخه پرون داسی آرزو او هیله (امید) کوله چه «کاشکی موږ ته هم داسی عروج او ترقی حاصل شوی وی» نن د قارون د دغه بد انجام د لیدلو څخه لاسونه پر غوږونو ږدی او توبی وباسی او اوس په هوش راغلل چه دغسی دولت په حقیقت کښې د یوه ښکلی مار په شان دی چه د هغه په منځ کښې مهلک زهر وی. له کوم سری د دنیوی ترقی او عروج د لیدلو څخه له سره موږ ته نه ښائی چه داسی کومه فیصله له خپله ځانه سره وکړو چه هغه هرومرو (خامخا) د الله تعالیٰ په دربار کښې څه نه څه عزت ـ وجاهت او مقبولیت هم لری. دغه دنیوی ترقی او تنزیل د کوم بنده د مقبولیت او مردودیت معیار نشی کیدی بلکه دغه د الله تعالیٰ مصلحت او حکمت دی. پر هر چا چه لازم او مناسب وګڼی د رزق او د روزی ورونه (ابواب) ورپرانیځی او هر چاته چه مناسب وی روزی ورتنګه او په اندازه کوی ئې. د مال او دولت فراخی او ارت والی د ښی خاتمی او مقبولیت دلیل نه دی بلکه علی الاکثر د هغه نتیجه تباهی او بربادی ده او د ابدی هلاکت او فلاکت په صورت څرګندیږی.

**صدق من قال ـ**

کم عاقل عاقل اعیت مذاهبه ▪ و جاهل جاهل تلقاه مرزوقا
هذا الذی ترک الاوهام حائرة ▪ وصیّرالعالم النحریر زندیقاً

**تنبیه:** په «ویک» کښې (وی) اسم د فعل دی په معنی د «اعجب» او دا (کاف) په معنی د (لام) دی نو معنی ئی داسی شوه چه تعجب کوم زه دپاره د دی چه بیشکه الله ارتوی رزق. **ونحن ترجمناه بمعنی ویلک وهذا ماقاله سیبویه**

لَوۡلَآ أَن مَّنَّ ٱللَّهُ عَلَيۡنَا لَخَسَفَ بِنَاۖ وَيۡكَأَنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴿٨٢﴾

که چیری نه وی دا چه احسان کړی دی الله پر مونږ نو خامخا ډوب کړی به ئی وو مونږ په ځمکه کښې (د قارون په شان) افسوس دی ته نه پوهیږی نه وینی دا چه نه خلاصیږی کافران (له عذابه).

**تفسیر:** یعنی دغه د الله تعالیٰ مهربانی او احسان دی چه مونږ ئی د قارون په شان ونه ګرځولو که نه ځمونږ حال او احوال به هم داسی کیده له خپل لوری که مونږ د ډیر حرص او طمع له سببه داسی هیله (امید) او آرزو کړی وه. ﴿ يَٰلَيۡتَ لَنَا مِثۡلَ مَآ أُوتِيَ قَٰرُونُ ﴾ الله تعالیٰ ځمونږ په مخ کښې خیر راپیښ کړ چه ځمونږ دغه آرزو او هیله (امید) ئی تر سره ونه رسوله او نه ئی پر دغه حرص او طمع مونږ ته څه تنبیه او سزا راکړه ـ بلکه د قارون نتیجه او حشر ئی مونږ ته راښکاره او مونږ ئی په دغه وسیله سره ویښ او متنبه کړو اوس مونږ ته دغه خبره ښه څرګنده شوه چه محض د مال او زر په ترقی سره حقیقی فلاح او بری هیڅکا ته نشی حاصلیدی او دغه چه ناشکره منکران له سره د الله د عذابه نجات نشی موندلی.

تِلۡكَ ٱلدَّارُ ٱلۡأٓخِرَةُ نَجۡعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوّٗا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فَسَادٗاۚ وَٱلۡعَٰقِبَةُ لِلۡمُتَّقِينَ ﴿٨٣﴾

دغه کور د آخرت (چه جنت دی) ورکوو مونږ دا دپاره د هغو کسانو چه نه لری اراده د لوئی (او تکبر) په ځمکه کښې او نه فساد ظلم کوی (پر خلقو) او عاقبت ښه خاتمه دپاره د پرهیزګارانو ده.

**تفسير:** يعني د قارون د دولت په نسبت ناپوهانو داسي ويل چه قارون خو ډير خوش قسمته او بختور سړی دی حال دا چه دغه خوش قسمتي او بختورتوب نه دی بلکه د آخرت ګټه په لاس کول لويه خوش قسمتي ده او دغه ګټه د هغو کسانو لپاره ده چه د الله تعالیٰ په ملک کښې شرارت او فساد غورځول نه غواړي او په دغه فکر کښې له سره نه دی چه خپل ځان له ګردو (تولو) څخه لوی او لوړ (اوچت) وګڼي ـ بلکه د تواضع او انکسار او پرهيزګاری لار ځان ته اختياروی ـ د دوی زيار (محنت) او کوښش د دی په ځای چه خپل ذات لوړ (اوچت) او لوی ښکاره کړی تل په دغه کار کښې مصروف او معطوف دی چه خپل دين لوړ (اوچت) کړی او کلمة الله په اعلاء کښې ووينی او خپل مسلم قوم مترقي او مرفه الحال او فارغ البال من حيث الحال وګرځوی، دوی د دنيا حريصان نه دی بلکه پر آخرت عاشقان دی او دنيا پخپله د دوی تر پښو لاندی رغړی نو اوس تاسی پخپله غور او فکر وکړئ چه آيا د دنيا مطلوب د دنيا له طالبه څخه ښه نه دی؟ صحابه ؤ رضی الله تعالیٰ عنهم ته وګورئ چه هغوی له ګردو (تولو) څخنی زيات د دنيا تارکان ؤ مګر متروک‌الدنيا نه ؤ ـ په هر حال د مؤمنانو اصلی مقصد آخرت دی د دنيا هغه برخه چه د دغه مقصد ذريعه وګرځی هم هغه ښه او مبارکه ده که نه هيڅ.

مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ خَيْرٌ مِّنْهَا ۚ وَمَنْ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَى الَّذِيْنَ عَمِلُوا السَّيِّاٰتِ اِلَّا مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۸۴﴾

او هر چا چه وکړه کومه نيکي پس شته ده ته (ښه جزاء) خير غوره له جهته د دغی (حسنی) او هر چا چه وکړه کومه بدی پس نشي ورکولی جزاء هغو کسانو ته چه کړی ئی دی (عمل د) بديو مګر (جزاء د هغه شي) چه ؤ دوی چه کاوه به ئی (په دنيا کښې).

**تفسير:** يعني کومه نيکي چه دلته وکړی له هغه څخه ښه او بهتره نيکي به هلته ورسره وکړه شي د يوی نيکي څرنګه چه د هغه اقتضاءوی اقلا لس چنده د هغه ثواب ورکاوه کيږی. حضرت شاه صاحب ليکي «پر نيکي باندی د نيکي وعده ئی ورکړه چه هغه علی‌اليقين رسيدونکی ده او پر بدی ئی د بدی وعده ونه فرمايله چه ضرور به وررسيږی ځکه چه ممکن دی چه هغه ورمعاف شي هو! دومره ئی وفرمايل چه د هغه فعل له سزا څخه به ډيره سزا ونه رسيږی».

اِنَّ الَّذِیۡ فَرَضَ عَلَیۡکَ الۡقُرۡاٰنَ لَرَآدُّکَ اِلٰی مَعَادٍ ؕ

بیشکه هغه (الله) چه فرض (نازل) کړی ئی دی پر تا (احکام د) قرآن خامخا بیرته بیوونکی دی د تا هغه ځای د وعدی (مکی) ته

**تفسیر:** پخوا ئی فرمایلی ؤ ﴿ وَالۡعَاقِبَةُ لِلۡمُتَّقِیۡنَ ﴾ عاقبت او ښه خاتمه پرهیزګارانو ته ده یعنی په آخرت کښی لکه چه پاس معلوم شو ـ اوس دغه راښیی چه په دنیا کښی هم آخری بری او فتح هم د دوی ده. وګورئ نن تاسی د کفارو له ظلم او تیری څخه په تنګ شوی مکه معظمه مو پریښوده مګر هغه الله تعالیٰ چه تاسی ئی رسول ګرځولی ئی او د پاک قرآن په شان کتاب ئی درعطاء کړی دی هم هغه الله تعالیٰ بالیقین د تا په ډیره کامیابی او بری سره بیرته هم دلته راوستونکی دی. حضرت شاه صاحب لیکی «دغه آیات د هجرت په وقت کښی نازل شول او داسی ډاډینه او تسلی ئی وفرمایله چه ته به بیا مکی معظمی ته راتلونکی ئی لکه چه دوی په ډیر ښه وضعیت سره راغلل سره له غلبی او فتح» ځینو مفسرینو له «معاد» څخه موت مراد کړی دی ـ او ځینو آخرت ـ او ځینو جنت ـ او ځینو د شام ځمکه چه هلته دوی یو ځلی په لیلة المعراج کښی تشریف وړی ؤ. حافظ عماد الدین بن کثیر رحمة الله علیه په دغو اقوالو کښی ډیر عمیق او لطیف تطبیق کړی دی. یعنی له معاده دلته مکه معظمه مراد ده (کما فی البخاری) مګر د مکی معظمی فتح د قرب الاجل علامه وه لکه چه ابن عباس او عمر رضی الله تعالیٰ عنهما د ﴿ اِذَا جَآءَ نَصۡرُ اللّٰهِ وَالۡفَتۡحُ ﴾ په تفسیر کښی وفرمایل د وړاندنی «اجل» څخه وروسته «حشر» د حشر څخه وروسته د «آخرت» او د آخرت وروستنی منزل جنت دی. مطلب ئی داسی شو چه الله تعالیٰ به تا ړومبی په یوه شانداره طریقه سره بیرته مکی معظمی ته راولی، وروسته له هغه څو ورځی وروسته اجل مو واقع کیږی، بیا به د شام په ځمکه کښی حشر کیږئ لکه چه له احادیثو څخه ثابت شوی دی بیا په آخرت کښی به هم په ډیر شان او شوکت سره تشریف راوړئ. او په آخر کښی په جنت کښی ډیر اعلیٰ مقام ته استول کیږئ.

قُلۡ رَّبِّیۡۤ اَعۡلَمُ مَنۡ جَآءَ بِالۡهُدٰی وَمَنۡ هُوَ فِیۡ ضَلٰلٍ مُّبِیۡنٍ ﴿۸۵﴾

ووایه (ای محمده! دوی ته) رب ځما ته ښه معلوم دی هغه څوک چه راوړی ئی ده لاره سمه او هغه څوک چه هغه په ګمراهی ښکاره کښی دی.

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ ته ځما هدایت او د مکذبینو او معاندینو ګمراهی ښه معلوم دی. یقیناً دی به له هر یوه سره سم د دوی له احواله سره معامله کوی. او دغه له سره نشی کیدی چه ځما

دغه کوشش ضایع شی ـ یا گمراهان رسوا ـ سپک او گمراه نه کړی.

وَمَا كُنتَ تَرْجُوٓا۟ أَن يُلْقَىٰٓ إِلَيْكَ ٱلْكِتَـٰبُ إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ

او نه وی ته چه توقع امید دی درلود (لرلو) د دی چه راوبه لیږلی شی تاته کتاب (قرآن) لیکن (راولیږلی شو محض) په رحمت مهربانی له (جانبه) د رب ستا

**تفسیر:** ته له پخوا څخه د نبوت په انتظار کښی نه وی دا محض د الله تعالیٰ رحمت او موهبت دی چه ته ئی په رسالت سره سرفراز کړی نو هم هغه الله تعالیٰ به په دنیا او آخرت کښی تاته بری او کامیابی درکوی لهٰذا ای محمده! د ده پر معاونت او امداد تل ترتله اعتماد او اطمینان ولره!.

فَلَا تَكُونَنَّ ظَهِيرًا لِّلْكَـٰفِرِينَ ﴿٨٦﴾

پس مه کیږه ته خامخا مددگار دپاره د کافرانو (په دین د دوی کښی).

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب لیکی «یعنی ته دی خپل هغه قوم خپل خپلوان مه گڼه چه دوی له تاسره بدی کړی ده او تاسی ئی مجبور کړی یئ چه خپل وطن پریږدئ! اوس هغه څوک چه له تاسره مرسته (تعاون) او مدد کوی هم هغه دی خپل دی.

وَلَا يَصُدُّنَّكَ عَنْ ءَايَـٰتِ ٱللَّهِ بَعْدَ إِذْ أُنزِلَتْ إِلَيْكَ
وَٱدْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿٨٧﴾

او (خبردار چه) وا دی نه ړوی (کفار) خامخا تا (په مکر او فریب) له آیاتونو د الله پس له هغه چه نازل کړل شول تاته او وبوله خلق (طرف د توحید او عبادت د) رب خپل ته او مه کیږه ته خامخا له مشرکانو څخه (په اعانت د دوی کښی).

**تفسیر:** یعنی ته دی د دین په کار کښې د خپل قوم خاطر او رعایت مه کوه! او مه دی خپل ځان په هغوی کښې شمیره! اګر که دوی ستا له قرابت دارانو شخه هم وی. هو! دوی ګرد (تول) د خپل رب په لوری وبوله! او د الله تعالیٰ د احکامو په تعمیل کښې تینګ اوسه!.

وَلَا تَدۡعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ كُلُّ شَیۡءٍ هَالِكٌ اِلَّا وَجۡهَهٗ

او مه بوله ته له الله سره معبود بل (ځکه چه) نشته هیڅ لائق د بللو بل هیڅوک مګر هم دی دی (یواځې ځکه چه) هر څیز فانی کیدونکی دی مګر ذات د ده (چه تل باقی دی).

**تفسیر:** دغه خطاب اګر که پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دی مګر بالوسیله په دغه سره نورو ته پند او نصیحت ورکول کیږی. د پاس آیتونو په نسبت ځینو مفسرینو هم داسی لیکلی دی. یعنی هر شی له خپله ذاته معدوم دی او تقریباً تول شیان فناء کیدونکی دی اعم له دی چه په هر وقت کښې وی مګر خو د الله تعالیٰ مخ یعنی د الله تعالیٰ مقدس ذات چه نه له سره معدوم ؤ او نه هرګز فناء کیدونکی دی رښتیا ده **(الا کل شیٔ ما خلاالله باطل).**
وقال الله تعالیٰ ﴿ كُلُّ مَنۡ عَلَيۡهَا فَانٍ وَّيَبۡقٰى وَجۡهُ رَبِّكَ ذُو الۡجَلٰلِ وَالۡاِكۡرَامِ ﴾ .
ځینو اسلافو د دی مطلب داسی اخیستی دی نور ګرد (تول) کارونه فناء او محو کیدونکی دی ماسواء له هغو کارونو چه خالصاً مخلصاً له وجه الله وکړی شی والله تعالیٰ اعلم.

لَهُ الۡحُكۡمُ وَاِلَيۡهِ تُرۡجَعُوۡنَ ﴿۸۸﴾ ع

هم ده ته دی حکم (نافذه قضاء) او هم ده ته به بیرته بوتلی شیٔ تاسی (لپاره د جزاء)

**تفسیر:** یعنی د ګردو (تولو) حضور د ده په مخ کښې د حساب او کتاب دپاره یو حتمی او ضروری شی دی چه هلته یواځې د هم ده حکم چلیږی. او صورتاً، ظاهراً او مجازاً هم د بل هیڅا حکم نه چلیږی او نه به قوت او اقتدار وریاتی وی. ای الله! جار دی شم! په هم دغه وقت کښې پر دغه ګناهګار بنده دی هم رحم وفرمایه! او له خپله غضبه ئی وساته!.

**تمت سورة القصص ولله الحمد والمنة.**

سورة العنکبوت مکية الامن آية (۱) الى غاية آية (۱۱) فمدنية وهى (٦٩) آية و (۷) رکوعات رقمها (۲۹) تسلسلهاحسب النزول (۸۵) نزلت بعد سورة الروم

د العنکبوت سورت مکی دی پرته (علاوه) له (۱) آیته څخه د (۱۱) آیته تر آخره پوری چه مدنی دی (٦٩) آیته

او (۷) رکوع لری په تلاوت کښی (۲۹) او په نزول کښی (۸۵) سورت دی وروسته د «الروم» له سورت څخه نازل شوی دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع) په نامه د الله چه خورا (ډیر) مهربان ډیر رحم والا دی.

الٓمّٓ ﴿١﴾ اَحَسِبَ النَّاسُ اَنْ يُّتْرَكُوْٓا اَنْ يَّقُوْلُوْٓا اٰمَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُوْنَ ﴿٢﴾

آیا گمان کوی دا خلق د دی چه پری به ښودی شی دوی (په) هم دی قدر چه ووائی دوی چه ایمان راوړی دی مونږ حال دا چه دوی به ونه ازمویل شی.

**تفسیر:** یعنی په ژبه سره د ایمان دعوی کول دومره سهل او آسانه نه دی هر څوک چه د ایمان دعوی کوی امتحان او ابتلاء ته دی ئی هم تیار شی! هم دغه د امتحان محک دی چه پری سره او ناسره سولولی کیږی او معلومیږی. په حدیث کښی راغلی دی چه له ګردو (تولو) څخه سخت امتحان د انبیاؤ دی. وروسته له هغه د صالحینو بیا درجه په درجه د هغو خلقو دی چه له هغو سره مشابهت ولری. او د انسان امتحان د ده د دین او ایمان له حیثیته اخیست کیږی. په هر اندازه چه انسان پخپل دین او ایمان کښی مضبوط او سخت وی په هم هغه اندازه له هغه څخه سخت امتحان اخیست کیږی.

وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ

او خامخا په تحقیق ازمویلی ؤ مونږ هغه کسان چه له دوی نه ړومبی ؤ

**تفسیر:** یعنی د ړومبنیو انبیاؤ د متبعینو ډیر لوی او سخت امتحان اخیست شوی دی. په صحیح

بخاری شریف کښی دی چه صحابه ؓ رضی الله عنهم د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښی عرض وکړ چه یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! څمونږ له پاره د الله تعالیٰ له درباره دعاء او مدد وغواړئ! دا هغه زمانه وه چه د مکی معظمی مشرکینو پر مسلمانانو باندی انتهائی ظلم او ستم کوو. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه پخوا له تاسو به ئی یو (ژوندی) انسان په ځمکه کښی ولاړ خښوو او بیا د هغه پر سر به ئی اره کشوله او د ده سر به له منځه دوه توتی کیده. د ځینو نورو مؤمنینو پر وجود به ئی د اوسپنی تک سره سیخونه وهل او لګول چه د هغو په اثر به د دوی پوستکی او غوښی وریتی کیدی او سوځیدی تناکی به ئی وهلی او لاندی به لویدی خو سره د دغو ربړو (تکلیفونو) او سختیو باوجود له خپل دین څخه به ئی دوی نشو ګرځولی.

اوښکی مو بهیږی ـ وینی مو توئیږی
زړونه مو کریږی ـ تینګ ولاړ په مینه یو
له خوب خوړو نه لری یو ـ خوار زهیر او غلی یو
خوند او ژوند نه تلی یو ـ سخت لتاړ په مینه یو

فَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكٰذِبِيْنَ ﴿۳﴾

پس خامخا معلوم به کړی هرومرو (خامخا) الله (په علم ظاهری سره هم) هغه کسان چه رښتینی دی (په دعوی د ایمان کښی) او خامخا معلوم به کړی الله هرومرو (خامخا) (هغه) دروغجنان (په علم ظاهری سره هم).

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ په علانیه ظاهروی او هر یو به پوهیږی چه د ایمان په دعوی کښی کوم یو رښتین راوځی؟ او کوم یو دروغجن څرګندیږی او سم له هغه سره به هر یوه ته سزا ورکوی.
**تنبیه:** له ﴿ فَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ ﴾ الآیة ـ څخه چه د علم الباری د حدوث توهم کیږی د هغه یو نهایت محققانه جواب شیخ الهند قدس سره العزیز پخوا د البقرة په (۱۷) رکوع د دغه متبرک تفسیر کښی چه پر ﴿ اِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ يَّتَّبِعُ الرَّسُوْلَ مِمَّنْ يَّنْقَلِبُ عَلٰى عَقِبَيْهِ ﴾ باندی لیکلی شوی ورکړی دی. مونږ دلته د هغو توجیهاتو په طرف اشاره کړی ده چه د مفسرینو له طرفه ایراد شوی دی.

اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ اَنْ يَّسْبِقُوْنَا سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ﴿۴﴾

آیا گمان کوی هغه کسان چه عمل کوی دوی د بدیو (لکه شرک او معاصی) د دی چه ړومبی به شی دوی پر مونږ (چه مونږ به له دوی نه انتقام ونشو اخیستی) بد دی هغه حکم چه کوی ئی دوی (چه نفی د انتقام دی)

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب لیکی چه «پخوانی دوه آیتونه د هغو مسلمانانو په متعلق ؤ چه د کفارو په ایذاء کښی اخته ؤ او دغه آیت د هغو کافرانو په متعلق دی چه مسلمانان به ئی ربړول (تکلیفول) (موضح)» یعنی د مومنینو امتحانات دی دوی داسی ونه گڼی چه «مونږ په خوندونو او مزو سره ظلمونه کوو او د هغو له سختیو او مصاعبو څخه مأمون او ساتلی یو.» دوی له مونږه خپل ځانونو چیری ساتلی شی هغه سختی سزاوی چه دوی ته ورکولی کیږی د هغه په مقابل کښی د مسلمانانو د امتحان سختی هیڅ حقیقت نه لری چه د دی وقت د دغه عارضی مهلت او ډیل په نسبت دوی داسی کومه رأیه قائمه کړی ده چه «مونږ به تل مأمون پاتی کیږو او د حساب او کتاب او سزا موندلو په وقت کښی به د الله تعالیٰ د قدرت په لاس کښی نه ورځو» نو په حقیقت کښی دوی پر ډیره خرابه خبره فیصله کړی ده او داسی د حماقت او د جهالت فیصلی د راتلونکیو مصائبو مخه له سره نشی نیولی.

مَنْ كَانَ يَرْجُوا لِقَاءَ اللَّهِ فَإِنَّ أَجَلَ اللَّهِ لَآتٍ ۚ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ۝

هر څوک چه وی چه امید لری دی د ملاقات د الله (په جنت کښی) پس بیشکه اجل نیته د (ملاقات د) الله خامخا راتلونکی ده (نو ښائی چه ورته تیار شی) او هم دی ښه اوریدونکی دی (د تولو اقوالو) ښه عالم دی (پر تولو احوالو)

**تفسیر:** یعنی هر هغه سړی چه په دغه توقع سختی گالی (برداشت کوی) او ربړونه (تکلیفونه) تیروی چه یوه ورځ به زه هرومرو (خامخا) د الله تعالیٰ په مخ کښی حاضریدونکی یم چه هلته تر یوی ذری پوری هم حساب او کتاب کیږی که زه دلته په دغه امتحان کښی ناکام شوم نو د دغه ځای له سختیو څخه په زیاتو سختیو کښی اخته کیدونکی یم او که تری بریالی او کامیاب ووتلم نو دغه گرد (تول) تکالیف به ځما له مخی څخه لری کیږی. او د الله تعالیٰ رضاء او لقاء به می په برخه کیږی نو داسی سړی دی په یاد ولری چه د الله تعالیٰ وعده هرومرو (خامخا) راتلونکی ده او هیڅ یو قوت او طاقت د هغی مخه نشی نیولی او د ده دغه اعلیٰ توقعات

خامخا پوره کیدونکی دی او ضرور د ده سترګی به پری یخی او رنی کیږی. الله تعالیٰ ګردی (تولی) خبری اوری او پری ښه عالم دی د هیچا زحمت نه ضایع او نه ابته (خراب) کوی.

---

وَمَنْ جٰهَدَ فَاِنَّمَا يُجَاهِدُ لِنَفْسِهٖ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَغَنِيٌّ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ۝

---

او هر څوک چه جهاد کوی (له کفارو یا له نفس خپل سره) پس بیشکه هم دا خبره ده چه جهاد کوی دپاره (د نفعی) د نفس خپل بیشکه چه الله خامخا غنی بی پروا دی له ګردو (تولو) عالمیانو څخه.

---

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ ته د چا له طاعت او عبادت څخه هیڅ نفع او له معصیته هیڅ قسم نقصان نه رسیږی هغه غنی ذات له هغی شیانو څخه په کلی ډول (طریقه) سره بی پروا او بی نیازه دی هو! بنده په هره اندازه چه د الله تعالیٰ په طاعت کښی محنت او زیار (کوشش) پر ځان اخلی د هغه ثمره او نتیجه ورته په دنیا او آخرت کښی رسیږی پس مجاهده کوونکی دی هیڅ کله داسی خیال ونه کړی کله چه مونږ د الله په لاره کښی دومره زحمت کوو نو (معاذالله) پر الله تعالیٰ خپل څه منت او احسان باروو بلکه بالعکس دا د هغه الله تعالیٰ مرحمت او احسان دی چه تاسی ته ئی ستاسی د ګټی او فائدی لپاره د طاعت او ریاضت توفیق درکړی دی.

---

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَنُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ
سَيِّاٰتِهِمْ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ اَحْسَنَ الَّذِيْ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝

---

او هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه) خامخا وبه رژوو مونږ هرومرو (خامخا) له دوی نه ګناهونه د دوی او خامخا جزاء به ورکړو مونږ هرومرو (خامخا) دوی ته ښه جزاء د هغه (عمل) چه وو دوی چه کاوه به ئی (په اسلام کښی).

---

**تفسیر:** یعنی سره له دی نه چه الله تعالیٰ د ګرد (تول) عالم څخه غنی، بی پروا او بی نیاز دی خو بیا هم په خپل رحمت او شفقت سره ستاسی محنت او زحمت نه ضایع کوی او په ځای ئی رسوی. حضرت شاه صاحب لیکی «یعنی د ایمان په برکت به تاسی ښیګنی (فائدی) او نیکی

ومومئ او بدی او خرابی مو ښښلی کيږی» (موضح القرآن).

وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا ۖ وَإِن جَاهَدَاكَ لِتُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا ۚ

او (مؤكد) امر كړی دی مونږ پر انسان له مور پلار خپل سره ئی د نيكی (هر كله په هر څه كښی پرته (علاوه) له دی نه)، او كه كوښښ كوی (دوی دواړه) له تاسره چه شريک ونيسی ته له ما سره هغه څيز چه نشته تاته په (الوهيت) د هغه كښی هيڅ علم پس اطاعت مه كوه ته د دوی (دواړو)

**تفسير:** يعني په ګردو (تولو) كائناتو كښی داسی كوم شی له سره نشته چه له الله تعالیٰ سره شريک يا شركت وكړی شی بيا نو په دی باندی څوک له كومه ځايه څخه خبر شوی دی. دغه خلق چه الله تعالیٰ ته شركاء ودروی محض د جهالت اوهام دی او د بی سنده خيالاتو متابعت كوی او په واقع سره له حقيقته بيخی بيخبره دی.

﴿فَلَا تُطِعْهُمَا﴾ ـ اطاعت مكوه ته د دی دواړو په اشتراک مع الله كښی)

په دنيا كښی له موره او پلاره د بل هيچا حق زيات نه دی خو د الله تعالیٰ حق له دوی نه هم دير دی د والدينو لامله (له وجی) نه ښايی چه د الله تعالیٰ دين پريږدی (موضح) په حديث كښی راغلی دی چه د حضرت سعد بن ابی وقاص والده چه مشركه وه كله چه د خپل ځوی د اسلام خبر ئی واوريد نو له خپله ځانه سره يی عهد وكړ ـ څو سعد (معاذالله) له اسلامه مرتد نشی نو زه به له سره خوړل او څښل نه كوم او تر چت لاندی به آرام ونه كړم لكه چه هغی له طعام خوړلو او له اوبو څښلو خپله خوله وتړله او بيخی خواره زهيره شوه خلقو به په زور او زيادت د دی خوله پرانستله او دودی او اوبه ئی وركولی نو په دغه مناسبت دغه آيت نازل شو ګواكی دغه راوښودل چه د والدينو په داسی شان پر خلاف‌الحق باندی مجبورول هم هغه يو شان ابتلاء او امتحان دی ښائی چه د خالص مؤمن د ثبات پښه تری ونه ښوئيږی.

إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۝٨

خاص ماته دی بيا راتله د تاسی (تولو) پس خبر به كړم زه تاسی (جزاء به در كړم) پر هغو (اعمالو) چه وئ تاسی چه كول به مو (په دنيا كښی).

**تفسير:** يعنی تول به په هغه عدالت كښی حاضريږئ! په دغه وقت كښی به ګردو (تولو) ته د ورښول

کیږی چه په اولاده او والدینو کښې کوم یو متجاوز او له خپله حده تیری کوونکی ؤ؟ او کوم یو پر حق او صداقت قائم ؤ.

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَنُدْخِلَنَّهُمْ فِي الصّٰلِحِيْنَ ﴿٩﴾

او هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه) خامخا داخل به کړو مونږ هرومرو (خامخا) دوی په (جماعت) د صالحانو کښې (چه انبیاء او اولیاء دی)

**تفسیر:** یعنی هر څوک چه سره له داسی زبردستو موانعو او عوائقو هم پر ایمان او د نیکی پر لاره قائم وی حق تعالیٰ به د هغه حشر پخپلو خاصو بندګانو کښې کوی. ابن کثیر رحمة الله علیه لیکی «که اولاد به ناحقه خبره کښې د خپلو والدینو خبره ونه منله او والدین هم هغسی به ناحقه ټینګ ولاړ وی نو د اولاد حشر به له صالحینو سره کیږی او د ده د والدینو به زمره کښې به نه کیږی. اګر که د طبیعی او نسبی تعلقاتو په بناء دی د ګردو (تولو) ځنی دوی ته دیر نژدی وی. په «المرء مع من احب» کښې دینی محبت مراد دی طبیعی محبت نه دی مراد.»

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ فَاِذَآ اُوْذِيَ فِي اللّٰهِ جَعَلَ فِتْنَةَ النَّاسِ كَعَذَابِ اللّٰهِ ؕ

او ځینی له خلقو څخه هغه څوک دی چه وائی (تش په خوله) ایمان راوړی دی مونږ (هم) په الله باندی پس کله چه سختی ورسوله شی ده ته په (لاره) د الله کښې نو وګرځوی فتنه سختی خپګان د خلقو (او شمیری ئی) په شان د عذاب د الله

**تفسیر:** دغه د هغو خلقو ذکر دی چه پخپله ژبه ځان ته «مؤمن» وائی مګر د دوی په زړونو کښې له سره ایمان راسخ نه ؤ ـ دوی ته هر چیری چه د الله تعالیٰ په لاره کښې کوم ربړ یا تکلیف وررسیده یا د دین له سببه ئی څوک تکلیفوو نو دغه امتحان او آزموینه ده ـ الله تعالیٰ د عذاب په منزله ګڼله څرنګه چه انسان د الله تعالیٰ له عذابه ویریږی او خپل ځان تری ساتی او وروسته د هغه له نزوله له خپلی هغی پخوانی دعوی څخه لاس واخلی ـ او ناچاره اعتراف او اقرار کوی چه زه په غلطی کښې وم هم دغسی حال د هغو ضعفاؤ القلوبو دی هر چیری چه د دین په معامله کښې کومه سختی وروړسیږی نو ژر تر ژره ویریږی او د ایمان له دعوی څخه لاس آخلی ـ

او په ژبه یا په عمل سره گواکي داسي اقرار کوي چه مونږ پخپلي دغي دعوی کښي په غلطي کښي وو. یا دغسي دعوی مو له سره نه وه کړي.

وَلَئِنْ جَآءَ نَصْرٌ مِّنْ رَّبِّكَ لَيَقُولُنَّ اِنَّا كُنَّا مَعَكُمْ

او قسم دی که چیری راشي مددگاری (د مؤمنانو) له (طرفه) د رب ستا (چه فتح او غنیمت یوسی) نو خامخا وبه وائی دغه (منافقان) هرومرو (خامخا) بیشکه مونږ (هم) یو له تاسي سره (په ایمان کښي) (نو په غنیمت کښي مو شریک کړئ!)

**تفسیر:** یعني که د مسلمانانو کوم عروج او موفقیت وگوري نو له خپله ځانه د هغه په نسبت خبري جوړوي چه مونږ خو له تاسي سره وو ـ او اوس هم ستاسي اسلامي ورونه یو ـ خصوصاً که مسلمانان فاتح شي. او فرض ئی کړئ که دغه خلق چه د کفارو سره ئی معاونت کاوه د مسلمانانو په لاس کښي بندیان شي نو بیا د دوی د نفاق او تملق لپاره هیڅ حد او اندازه نشته.

اَوَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَعْلَمَ بِمَا فِيْ صُدُوْرِ الْعٰلَمِيْنَ ⑩

(وفرمایل الله) آیا نه دی الله ښه عالم په هغه (اخلاص او نفاق) چه په سینو زړونو د عالمیانو کښي (پټ) دی (بلکه په هر شي باندی ښه عالم دی).

**تفسیر:** یعني لکه چه ځیني له دغو خلقو له مسلمانانو سره دی الله ته دغه گرد (تول) معلوم دی آیا تش د ژبي په دعوی سره دوی له الله تعالیٰ څخه د خپلو زړونو احوال پټولی شي؟

وَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَيَعْلَمَنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ ⑪

او خامخا معلوم دی هرومرو (خامخا) الله ته هغه څوک چه ایمان ئی راوړی دی او خامخا معلوم دی هرومرو (خامخا) (الله ته) منافقان (نو ور به کړی هری یوی فرقي ته جزا موافقه).

**تفسیر:** یعني الله تعالیٰ ته لا له پخوا څخه هر شي پوره معلوم دی ـ لیکن اوس ستاسي اعمال او افعال نورو ته هم ورښیي او ظاهروی یي چه آیا د عمل په میدان او په ښکاره ډول (طریقه) کوم یو له تاسي خپل ځان صادق مؤمن ثابتوی؟ او کوم یو دروغجن ـ دغاباز او منافق دی؟

**تنبیه:** په دی قسم مواضعو کښی د ﴿ وَلَيَعْلَمَنَّ اللهُ ﴾ معنی په (لیرین الله) سره له ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه څخه منقول دی کما فی تفسیر ابن کثیر رحمة الله علیه.

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا اتَّبِعُوا سَبِيلَنَا وَلْنَحْمِلْ خَطَايَاكُمْ ط

او وائی هغه کسان چه کافران شوی دی هغو کسانو ته چه ایمان ئی راوړی دی متابعت وکړئ تاسی د لاری څمونږ (په دنیا کښی) او ښائی بار به کړو (پر ځانونو) ګناهونه ستاسی

**تفسیر:** یعنی مسلمانانو ته لازم دی چه پر ایمان مضبوط وی او هیڅ قسم تکلیف ـ ایذاء او ربړول (تکلیفول) یی د ثبات او استقامت له طریق څخه لری نشی کړی او نه د کفارو دک له شیطنته او حماقته استمالت او پخلا کولو څخه متأثر شی ـ مثلاً کفارو به مسلمانانو ته ویل «راځی اسلام خوشی کړئ! او په خپلو هم هغو پخوانیو وروګلویو او خپلویو کښی ننوځئ! او څمونږ پر لاره تګ وکړئ څو له ګردو (تولو) تکالیفو او ایذاؤ څخه نجات ومومئ! او بی سببه په دغو مصائبو او تکالیفو کښی پاتی نشئ او که تاسی داسی اقدام ګناه ګڼئ! او له مؤاخذی څخه ئی ویریږئ نو د الله تعالیٰ په دربار کښی څمونږ نوم واخلئ چه دوی مونږ ته داسی مشوره راکړی وه ـ او که داسی کومه پیښه درواندی شی نو ګرد (تول) مسئولیت او ذمه واری به مونږ په خپل سر اخلو» لکه چه یو شاعر وائی.

تو مشق ناز کر خون دوعالم میری ګردن پر

وَمَا هُم بِحَامِلِينَ مِنْ خَطَايَاهُم مِّن شَيْءٍ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴿١٢﴾
وَلَيَحْمِلُنَّ أَثْقَالَهُمْ وَأَثْقَالًا مَّعَ أَثْقَالِهِمْ

حال دا چه نه دی دوی (پخپل ځان) اخیستونکی له ګناهونو د دوی د هیڅ شی بیشکه دوی خامخا دروغجنان دی (په دغه وعده کښی). او خامخا بار به کړی هرومرو (خامخا) (دغه کفار) بارونه درانه د ګناهو خپلو او نور درانه بارونه هم سره له بارونو درنو د ګناهو خپلو

**تفسیر:** یعنی دوی دروغجنان دی او ستاسی بار د یوی ذری په اندازه هم دوی نشی سپکولی هو! خپل بار درنوی ـ یو خو د دوی د ذاتی ګناهونو بار ؤ ـ اوس د نورو د اغواؤ او د اضلالو بار

پر هغه لا زيات شو. حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليكي «كه ځوك وغواړي چه رفاقت وكړي او د بل چا د گناه بار پر خپله اوږه واخلي امكان نه لري مگر كه يو بل گمراه كړي نو د دغه گمراه شوي سړي د گناه بار هم د دغه گمراه او هم د هغه گمراه كوونكي په غاړه لوېږي» (موضح) لكه چه په حديث كښې راغلي دي «هر ځوك چه په دنيا كښې (ناحقه) وينه توئي كړي د ده د گناه برخه د آدم عليه السلام ړومبني ځوى «قابيل» ته هم رسيږي چه هغه اول ځلي دغه خرابه لاره ايستلې ده».

وَلَيُسْـَٔلُنَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَمَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿۱۳﴾

او خامخا وبه پوښتيدلي شي دوى هرومرو (خامخا) په ورځ د قيامت كښې له هغو (دروغو) چه وو دوى چه له ځانه به ئې جوړول (په الله په رسول الله).

**تفسير:** يعني دوى د دروغو خبرې جوړوي چه مونږ به ستاسي بار پر خپلو اوږو آخلو دغه بالذات يوه مستقله گناه ده پر دغه هم دوى مأخوذيږي. وروسته د څو قصصو په منځ كښې پر دغې خبرې تنبيه وركړى شوى ده چه د رښتينو په مقابل كښې هميشه دروغ ـ اغواء او شرارت كيدل او د رښتينو او صادقانو د امتحان ابتلاء او آزمويني دوره به تر مدتو پورې اوږديده مگر وروستني نتيجه به د هم هغو په حق كښې ښه او بهتره څرگنديده او منكران او شريران به گرد (تول) سره خائبان او خاسران او زيانكاران گرځيدل ـ صادقان او رښتينان به برياليان ـ كامياب او سرفراز كيدل او د اشقياؤ گرد (تول) مكائد د عنكبوت له تاره څخه زيات قوى نه ثابتيدل.

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ فَلَبِثَ فِيْهِمْ اَلْفَ سَنَةٍ اِلَّا خَمْسِيْنَ عَامًا

او خامخا په تحقيق ليږلى ؤ مونږ نوح قوم د ده ته پس مدت ئې تير كړ په دوى كښې زر كاله (دپاره د تبليغ او دعوت حق ته) مگر پنځوس كاله (كم له زرو نه)

**تفسير:** له ابن عباس رضى الله تعالىٰ عنه څخه منقول دي چه حضرت نوح عليه السلام په څلويښت كلنى كښې مبعوث شو نهه نيم سوه كاله په دعوت ـ تبليغ ـ سعى ـ او اصلاح كښې مصروف او لگياء ؤ بيا طوفان (څپان) راغى له طوفانه وروسته (٦٠) كاله نور هم ژوندى پاتى ؤ چه په دغه حساب سره د دوى تول عمر ١٠٥٠ كاله شو.

فَأَخَذَهُمُ الطُّوفَانُ وَهُمْ ظَٰلِمُونَ ﴿١٤﴾

(نو تکذیب ئې وکړ) پس ونیول دوی طوفان (ډیرو اوبو نو غرق شول) حال دا چه دوی ظالمان ؤ (په سبب د کفر خپل).

**تفسیر:** یعنی کله چه دوی له گناهونو او شرارتو څخه لاس وانخیست نو طوفان پری نازل شو چه په هغه کښتی پرته (علاوه) له ځو تنو مخصوصو نفوسو نور گرد (تول) سره ډوب او هلاک شول.

فَأَنجَيْنَٰهُ وَأَصْحَٰبَ السَّفِينَةِ

پس نجات ورکړ مونږ ده ته (له عذابه د طوفان) او خاوندانو د بیړی (ته چه له ده سره ؤ)

**تفسیر:** هغه انسانان یا حیوانان چه پر دغی بیړی کښتی سواره ؤ هغوی مو د نوح علیه السلام په ملگرتوب محفوظ او مأمون وساتل د هود علیه السلام په سورت کښتی دغه قصه په تفصیل سره تیره شوی ده.

وَجَعَلْنَٰهَا ءَايَةً لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿١٥﴾

او وگرځوله مونږ دغه (بیړی یا قصه یوه لویه) نښه (د قدرت او عبرت) عالمیانو ته.

**تفسیر:** وائی چه د نوح علیه السلام بیړی تر ډیرو مودو پوری د(جودی) پر غره ولاړه وه څو د گردو (تولو) لیدونکو لپاره عبرت وی نن ورځنی بیړی او جهازونه هم د هم هغی بیړی یوه نښه ده چه د هغو د لیدلو څخه هم د نوح علیه السلام د سفینی یاد تازه کیږی او د الله تعالیٰ د قدرت یوه نمونه په نظر راځی ـ یا ښائی چه تری داسی مراد وی چه مونږ د بیړی دغه قصه د همیشه لپاره د عبرت نښه گرځولی ده. حضرت شاه صاحب وائی «څه وقت چه دغه سورت نازل شو د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ډیر اصحاب د کفارو له ایذاء او اضراره په تنگ شوی ؤ ـ او ځینی له هغو پر بیړیو سواره شوی او د حبشی په لوری ئې هجرت کړی ؤ کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینی منوری ته راغی دلته هغه جهاز والا اصحاب ئې هم مدینی منوری ته راغلل او په سلامتی له هغوی سره ملاقی شول (موضح بتغیر یسیر) گواکی نوح علیه السلام او د نوح علیه السلام د سفینی تاریخ په دغه صورت او شکل سره بیا اعاده کړی شوی دی.

وَإِبْرَٰهِيمَ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ وَٱتَّقُوهُ ۖ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١٦﴾ إِنَّمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوْثَٰنًا وَتَخْلُقُونَ إِفْكًا ۚ

او (ياده كړه قصه د) ابراهيم كله چه وى ويل قوم خپل ته چه عبادت كوئ تاسى الله ته او وويريږئ له (عذابه د) ده دغه (عبادت او ويره) غوره ده تاسى ته (له كفره) كه چيرى يئ تاسى چه پوهيږئ (په خير او شر خپل) بيشكه هم دا خبره ده چه عبادت كوئ تاسى غير له الله د بتانو او جوړوئ دروغ (له خپله ځانه چه خدايان ئى بولئ).

**تفسير:** يعنى له خپله ځانه په دروغو سره عقيدى جوړوئ او د دروغو خيالاتو او اوهامو متابعت كوئ ـ لكه چه تاسى په خپلو لاسو بتان له تيږو (ګټو) ځنى توږئ او دروئ ئى او بيا هغه تاسى په دروغو سره خپل معبودان ګرځوئ!

إِنَّ ٱلَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَمْلِكُونَ لَكُمْ رِزْقًا فَٱبْتَغُوا۟ عِندَ ٱللَّهِ ٱلرِّزْقَ وَٱعْبُدُوهُ وَٱشْكُرُوا۟ لَهُۥٓ ۖ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿١٧﴾

بيشكه هغه كسان چه عبادت ئى كوئ تاسى بى له الله نه دى مالكان دوى تاسى ته د رزق پس طلب كړئ تاسى په نزد د الله رزق (چه قادر دى په رسولو د روزى) او عبادت كوئ د هم هغه (الله يواځى) او شكر وباسئ هم هغه (الله) ته (په نعمتونو د ده) هم دغه الله ته به بيرته بيولى كيږئ تاسى.

**تفسير:** حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليكى «اكثر خلق په روزى پسى خپل ايمان وركوى نو وپوهيږئ چه ماسواء الله څخه بل هيڅوک چاته روزى نه وركوى هم هغه روزى رارسوى سم له خپلى ارادى سره» لهٰذا ښائى چه د هم هغه الله شكريه اداء كړئ! او هم هغه ته بندګى او عبادت وكړئ! چه هم هغه پاک الله تعالىٰ ته ستاسى بيا ورتګ او رجوع ده آخر په هغه وقت كښى به څرنګه د الله تعالىٰ سره مخامخ كيږئ؟.
(تر دغه ځايه پورى د حضرت ابراهيم عليه السلام مقوله وه اوس پاک الله داسى خطاب فرمائى قريشو ته)

وَإِنْ تُكَذِّبُوا فَقَدْ كَذَّبَ أُمَمٌ مِّنْ قَبْلِكُمْ ۖ وَمَا عَلَى الرَّسُولِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ ﴿١٨﴾

او که نسبت د دروغو وکړ تاسی (ای کفارو رسول ته) نو په تحقیق نسبت د دروغو کړی ؤ (انبیاؤ خپلو ته) ډیرو قومونو پخوا له تاسی او نشته پر رسول باندی مګر رسوونه (د پیغام) ښکاره.

**تفسیر:** یعنی (ای کفارو!) ستاسی له دغه دروغجن شمیرلو څخه ماته هیڅ ضرر او نقصان نه رسیږی زه په صافو الفاظو سره تبلیغ ـ پند او نصیحت کوم او خپله وظیفه او فریضه می په دغه مورد کښی په ښه ډول (طریقه) سره اداء کړی ده او د ښو او د بدو لاری او کندی می ګردی (تولی) تاسی ته در ښوولی دی که سره له هغه ئی تاسی نه منئ البته تاسی به هم داسی نقصانونه وموموئ ـ لکه چه پخوا له تاسی «عادیان» او «ثمودیان» او نور په کښی اخته او مبتلا شوی ؤ.

أَوَلَمْ يَرَوْا كَيْفَ يُبْدِئُ اللَّهُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ﴿١٩﴾

آیا نه وینی (دغه منکران له بعثه) چه څرنګه اول پیدا کوی الله دا خلق بیا به ئی دوهم ځلی هم خلق کړی بیشکه دغه (اعاده د مخلوق اول او دوهم ځلی) پر الله آسانه ده.

**تفسیر:** یعنی پخپلو ځانونو کښی غور او دقت وکړئ! ړومبی تاسی بیخی نه وئ! الله تعالیٰ تاسی له عدم څخه وجود ته راوستئ هم داسی تاسی به وروسته له مرګه هم بیا ژوندی راپاڅوی. حضرت شاه صاحب لیکی «ړومبی خو مو لیدلی دی، وروستی هم پری قیاس کړئ» یعنی د الله تعالیٰ په نزد خو هیڅ شی سخت او مشکل نه دی. مګر خبره ستاسی په پوهیدلو او باور کولو کښی ده هغه ذات چه یو شی ئی بی له نمونی څخه اول ځلی پیدا کړی دی دوهم ځلی ئی هم پیدا کولی شی د نمونی د قائمیدلو څخه وروسته د یوه شی جوړول ښائی چه لا سهل او آسان وی.

قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ بَدَأَ الْخَلْقَ ثُمَّ اللَّهُ يُنْشِئُ

النَّشۡاَةَ الۡاٰخِرَةَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰی کُلِّ شَیۡءٍ قَدِیۡرٌ ﴿۲۰﴾ یُعَذِّبُ مَنۡ یَّشَآءُ وَ یَرۡحَمُ
مَنۡ یَّشَآءُ ۚ وَ اِلَیۡهِ تُقۡلَبُوۡنَ ﴿۲۱﴾ وَ مَاۤ اَنۡتُمۡ بِمُعۡجِزِیۡنَ فِی الۡاَرۡضِ وَ لَا فِی السَّمَآءِ ۫ وَ مَا
لَکُمۡ مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ مِنۡ وَّلِیٍّ وَّ لَا نَصِیۡرٍ ﴿۲۲﴾ ع

ووایه (ای محمده! دوی ته) چه وګرځئ تاسی په ځمکه کښې پس وګورئ چه څرنګه شروع کړی ده پیدایښت (له نشتوالی څخه) بیا به الله پیدا کړی پیدا کول وروستنی هم (په آخرت کښې په مثل د ړومبنی پیدایښت په دنیا کښې ځکه چه) بیشکه الله پر هر شی باندی (چه اراده وفرمائی) ښه قادر دی (چه ځینی ئی مبدا او اعاده ده) عذاب ورکوی هر هغه چاته چه اراده وفرمائی (د تعذیب ئی) او رحم کوی پر هغه چا چه اراده وفرمائی (د رحمت ئی) او خاص هم دغه (الله) ته تاسی بیرته بیولی کیږئ. او نه یئ تاسی (ای خلقو!) عاجزوونکی (د الله) په ځمکه کښې او نه په آسمان کښې (له عذاب خپله) او نشته تاسی ته غیر له الله هیڅ دوست (چه وساتی تاسی) او نه هیڅ مددګار (چه ستاسی مرسته (مدد) وکړی په دفع د عذاب کښې).

**تفسیر:** یعنی خپل ذات پریږدئ د نورو اشیاؤ په پیدایښت کښې هم غور او فکر وچلوئ؟ او د الله تعالیٰ په ځمکه او ملکونو کښې وګرځئ! او سترګی وغړوئ! چه الله تعالیٰ څرنګه مخلوقات پیدا کړی دی؟ پر هم دغو مخلوقاتو او موجوداتو هم هغه خپل بل ژوندون هم اټکل او قیاس کړئ! او پری ښه ویوهیږئ! چه د هغه قدرت خو اوس نه دی محدود شوی. نو هم دغه الله تعالیٰ تاسی دوهم ځلی هم پیدا کوی او بیا به سم له خپله حکمته او مصلحته سره سزاء درکوی او پر هر چا چه اراده وفرمائی پخپل فضل ـ کرم او رحمت سره به خپله مهربانی مبذوله فرمائی ـ او د هر چا سزاء ورکولو ته چه الله تعالیٰ اراده وفرمائی هغه نه به دی سره له هغی سزاء څخه خلاصیدی شی چه دی د ځمکی په سوریو کښې ننوځی یا آسمان ته والوځی هیڅ یوه هسکه او تیټه د الله تعالیٰ مجرم ته د پناه ځای نشی ورکولی او نه هیڅ زور ـ قوت او طاقت هغه مجرم ته څه امداد او معاونت رسولی شی او نه ورسره څه مرسته (مدد) او نه ئی حمایت کولی شی.

وَ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا بِاٰیٰتِ اللّٰهِ وَ لِقَآئِهٖۤ اُولٰٓئِکَ یَئِسُوۡا
مِنۡ رَّحۡمَتِیۡ وَ اُولٰٓئِکَ لَهُمۡ عَذَابٌ اَلِیۡمٌ ﴿۲۳﴾ فَمَا کَانَ

جَوَابَ قَوۡمِهٖٓ اِلَّآ اَنۡ قَالُوا اقۡتُلُوۡهُ اَوۡ حَرِّقُوۡهُ

او هغه کسان چه کافران شوی دی په آیاتونو د الله او په ملاقات د دغه (الله) دغه کسان نااميده دی له رحمت (جنت) ځما او دغه کسان مقرر دی دوی ته عذاب ډير دردناک. پس نه ؤ جواب د قوم د دغه (ابراهيم) مګر دا ؤ چه وويل دوی ووژنئ تاسی دغه (ابراهيم) يا وسوځوئ ده لره

**تفسير:** يعنی هغه کسان چه د الله تعالیٰ له خيره څخه انکار کوی ـ او د الله تعالیٰ سره د مخامخ کيدلو اميد نه لری نو هغوی به څرنګه د الله تعالیٰ د رحمت څخه اميد کولی شی ځکه چه دوی په بعث بعد الموت قائل نه دی لهٰذا دوی به په آخرت کښی هم محروم او مأيوس پاتی کيږی. او دغه د ﴿ مَنۡ كَانَ يَرۡجُوۡا لِقَآءَ اللّٰهِ فَاِنَّ اَجَلَ اللّٰهِ لَاٰتٍ ﴾ عکس شو.
يعنی د ابراهيم عليه السلام د تمامو معقولو خبرو او دلائلو او براهينو د آوريدلو څخه کله چه د ده قوم له جواب څخه عاجز شو نو د قوت د استعمال دپاره ئی لاس وغځول ـ پخپلو منځونو کښی ئی سره جرګه او مشوره وکړه چه يا ښائی دی ووژلی شی او يو ځلی دغه شورماشور آرام کړی ـ يا په اور کښی وسوځولی شی ـ څو ئی د ربړ او تکليف له احساسولو څخه له خپله دغو خبرو څخه واوړی. که ده له خپلو دغو خبرو څخه توبه وويسته نو نه به ئی سوځوو که نه په اور کښی به ئی غورځوو چه د ايرو يوه ډيری تری جوړه شی.

فَاَنۡجٰىهُ اللّٰهُ مِنَ النَّارِ ؕ

پس نجات ورکړ دغه (ابراهيم ته) الله له (ضرره د) اوره

**تفسير:** يعنی د دوی د مشورو او جرګو په اثر ابراهيم عليه السلام په اور کښی وغورځول شو مګر الله تعالیٰ اور پری ګلزار کړ ـ لکه چه د «الانبياء» په سورت کښی ئی قصه مفصلاً تيره شوه.

اِنَّ فِیۡ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوۡمٍ يُّؤۡمِنُوۡنَ ﴿۲۴﴾

بيشکه په دغه (نجات د ابراهيم له اوره) خامخا ډير دلائل (د قدرت) دی دپاره د هغه قوم چه ايمان ئی راوړی دی.

**تفسير:** يعنی دغی واقعی دا راښکاره او جوته کړه چه الله تعالیٰ خپلو صادقو بندګانو ته څرنګه

نجات ورکوی؟ او د حق مخالفان څرنګه خائب ـ خاسر او نااميده کوی؟ دا هم راڅرګنده شوه چه د هر شي تأثير د الله جل جلاله له حکمه دی کله چه د الله جل جلاله حکم نه وی نو د اور په شان يو شی هم يو څيز نشي سوځولی.

وَقَالَ إِنَّمَا اتَّخَذْتُم مِّن دُونِ اللَّهِ أَوْثَانًا مَّوَدَّةَ بَيْنِكُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۖ

او ويل (ابراهيم خپل قوم ته) بيشکه هم دا خبره ده چه نيولی دی تاسی غير له الله بتان (په خدائی سره) دپاره د دوستی په منځ ستاسی کښی په دغه ژوندون لږ خسيس کښی،

**تفسير:** يعنی کله چه حضرت ابراهيم عليه السلام له اوره څخه صحيح او سلامت ووت نو بيا خپل قوم ته دغسی نصيحت وکړ چه «کوم يو عقلمن سړی بت پرستی ته ښه او جائزه ويلی شی؟ بت پرستان هم پخپلو زړونو کښی په دی باندی ډير ښه پوهيږی چه دغه حرکت نهايت مهمل حرکت دی. مګر د قومی شيرازی د جمع ساتلو دپاره دوی داسی يو مذهب ځان ته تاکلی (مقرر کړی) دی چه د هغه پر نامه ټول قوم سره متحد او متفق وی او يو له بل سره دوستان شی لکه چه نن ورځ مونږ د يورپ د عيسائی اقوامو احوال ګورو ـ يا دا مطلب چه د بت پرستی شيوع او رواج پر دغه نه دی بناء شوی چه هغه کوم معقول څيز دی بلکه د ړندو تقليد، د قومی مروت او لحاظ او د ذات البينی تعلقاتو تأثيرات د هغه لوی سبب دی ـ يا ئی دا غرض دی چه د بت پرستی اصلی اساس د ذات البينی محبت، دوستی ده د يوه قوم هغه څه نيک سړی چه د خلقو په نزد به محبوب ؤ څه وقت چه انتقال ئی وکړ خلقو به د ډيری مينی د دوی تصاوير جوړول او د يادګار په ډول (طريقه) به ئی ساتل بيا به ئی متدرجاً د دغو تصويرونو په تعظيم شروع کوله ـ هم دغه تعظيم به ورو ورو پسی زياتيده او د عبادت شکل به ئی ځان ته اخيست. دغه ګرد (ټول) احتمالات په دغه آيت کښی د مفسرينو له طرفه بيان کړی شوی دی او ممکن دی له «مودة بينکم» څخه د بت پرستانو هغه محبت مراد وی چه دوی ئی له خپلو بتانو سره لری لکه چه په بل ځای کښی ئی ﴿ أَندَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللَّهِ ﴾ فرمايلی دی ـ والله اعلم.

ثُمَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكْفُرُ بَعْضُكُم بِبَعْضٍ وَيَلْعَنُ بَعْضُكُم بَعْضًا

بيا په ورځ د قيامت کښی بيزاره (منکر) به شی ځينی ستاسی (چه متبوعان دی) له ځينو نورو سره (چه تابعان دی) او لعنت به وائی ځينی د تاسی (چه

تابعان دی) پر ځینو نورو (چه متبوعان دی)

**تفسیر:** یعنی دغه ګردی (تولی) اوسنی دوستی او محبت د څو ورځی له مخی دی. د قیامت په ورځ کښې به یو د بل سره دښمنان شي! او ځینی به پر ځینو نورو لعنت وائی. حضرت شاه صاحب لیکی «یعنی هغه شیطان چه مشرکین او کفار به د ده په نامه قربانیدل او ګردی (تولی) خبری به ئی منلی د الله تعالیٰ په مخ کښې به منکریږی چه مونږ له سره دوی ته نه دی ویلی چه څمونږ عبادت کوئ! یا څمونږ خبرو ته غوږ کیږدئ! دلته به عابدین پر دغو معبودینو لعنت وائی چه څمونږ نذر نیاز او نور تاسی واخیستل او د مطلوب په وقت کښې له مونږ څخه مخ مو وګرځوو.

وَمَأْوٰىكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿۲۵﴾

او ځای د هستوګنی ستاسی اور دی او نه به وی تاسی ته (په قیامت کښې) هیڅوک له مددګارانو

**تفسیر:** چه له عذاب نه مو خلاص کړی ای نمرودیانو! او د دوزخ له اوره تاسی ته نجات درکړی لکه چه څما رب ماته ستاسی له دغه اوره نجات راکړ.

فَاٰمَنَ لَهٗ لُوْطٌ ۘ وَقَالَ اِنِّيْ مُهَاجِرٌ اِلٰى رَبِّيْ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۲۶﴾

پس ایمان راوړ (او تصدیق ئی وکړ) دغه (ابراهیم) ته لوط او وویل (ابراهیم) چه بیشکه زه هجرت کوونکی یم (له قوم خپله) رب څما ته بیشکه چه دی هم دی ښه غالب قوی دی (په انفاذ د احکامو) ښه حکمت والا (چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی.

**تفسیر:** حضرت لوط علیه السلام د حضرت ابراهیم علیه السلام وراوه ؤ - د ابراهیم علیه السلام له قوم څخه هیڅوا دی ونه مانه یوازی لوط علیه السلام بلا توقف د دوی تصدیق وکړ - د دوی دواړو وطن په «عراق» کښې د «بابل» ښار ؤ - دوی د الله تعالیٰ په توکل له خپله وطنه ووتل - الله تعالیٰ دوی د شام ملک ته ورسول او هلته ئی د هستوګنی وسائل ورمهیاء کړل.

**تنبیه:** په ﴿ وَقَالَ اِنِّيْ مُهَاجِرٌ ﴾ الآیة - کښې دواړه احتمال شته چه قائل ئی ابراهیم وی یا لوط

علیهما السلام.

وَوَهَبْنَا لَهٗۤ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَجَعَلْنَا فِیْ ذُرِّيَّتِهِ النُّبُوَّةَ وَالْكِتٰبَ وَاٰتَيْنٰهُ اَجْرَهٗ فِى الدُّنْيَا ۚ وَاِنَّهٗ فِى الْاٰخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۲۷﴾

او وبانبه مونږ دغه (ابراهیم) ته (ځوی) اسحٰق او (لمسی) یعقوب او ګرځولی ؤ مونږ په اولاده د دغه (ابراهیم) کښې نبوت او کتاب (لکه توریت ـ انجیل ـ زبور او قرآن) او ورکړی ؤ مونږ دغه (ابراهیم) ته اجر د ده په دنیا کښې او بیشکه دی په آخرت کښې خامخا له (معتبرو) صالحانو څخه دی.

**تفسیر:** اسحاق علیه السلام ځوی او یعقوب علیه السلام لمسی ئی ورعنایت کړ چه د دوی اولادی ته بنی اسرآئیل وائی او د حضرت ابراهیم علیه السلام نه وروسته ماسواء د ده د اولادی څخه بل هیچا ته آسمانی کتاب او نبوت نه ورکاوه کیږی لکه هومره انبیاء چه مبعوث شوی دی د هم دغه ابراهیم علیه السلام له ذریاتو څخه دی ځکه دوی ته «ابو الانبیاء» هم ویلی کیږی او الله تعالیٰ په دنیا کښې ده ته مال اولاد ـ عزت ـ او د تل لپاره ښه نوم ورکړ ـ او د شام ملک ئی د همیشه لپاره ده ته او د ده اولادی ته وروبانبه «**کذا فی الموضح**» او په آخرت کښې ئی د صالحینو په اعلیٰ درجه جماعت کښې چه د اولوالعزمو انبیاؤ جماعت دی شامل کړه.

وَلُوْطًا اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖۤ اِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ ۫ مَا سَبَقَكُمْ بِهَا مِنْ اَحَدٍ مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۸﴾

او یاد کړه (ای محمده! قصه د) لوط کله چه وی ویل قوم خپل ته چه بیشکه تاسی خامخا راځئ ناکاره کار (د لواطت) ته چه نه دی ړومبی شوی پر تاسی (په دغه قبیح کار کښې) هیڅوک له (تیرو) عالمیانو (چه انس او جن دی).

**تفسیر:** یعنی دغه شنیع فعل هیچا پخوا له تاسی نه دی کړی هم دا د دغی خبری دلیل دی چه

انسانی فطرت له هغه څخه منفور دی د داسی خلاف‌الفطرت او خلاف‌الشریعت کار اساس تاسی ایښی دی.

أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الرِّجَالَ وَتَقْطَعُونَ السَّبِيلَ ۙ

آیا تاسی خامخا راځئ سړیو ته (د لواطت دپاره) او قطع کوئ (شکوئ) لاره (او د خلقو مال اخلئ).

**تفسیر:** له لاری وهلو ځنی مراد ممکن دی چه داړه ماری وی چه دغه کار به هم په دوی کښی رواج درلود (لرلو) یا په دغه بدکاری سره به ئی د مسافرانو لاری وهلی چه هغوی د خپل عفت او عصمت له ویری د هغی لاری په لوری نه راتلل یا به د ﴿وَتَقْطَعُونَ السَّبِيلَ﴾ مطلب داسی وی چه تاسی فطری او معتاده لاره پری ایښی او د توالد او تناسل لاره مو منقطع کړی ده.

وَتَأْتُونَ فِي نَادِيكُمُ الْمُنكَرَ ۖ

او راځئ تاسی په مجلسونو خپلو کښی منکرو ناکارو کارونو ته

**تفسیر:** ښائی چه دغه بدکاری به ئی په علانیه او دانګ پیلی (ښکاره) د نورو خلقو په مخ کښی کوله او له سره به له خپلو دغو بدو اعمالو څخه نه شرمیدل یا برسیره په هغه نور څه تمسخر او استهزاء او لاس اچول او د بی شرمی خبری هم کولی.

فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ إِلَّا أَن قَالُوا ائْتِنَا بِعَذَابِ اللَّهِ إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ ﴿٢٩﴾

پس نه ؤ جواب د قوم د دغه (لوط ده ته بل شی) مګر دا چه ویل به (دغو لواطت کارانو) چه راوړه مونږ ته عذاب د الله که چیری ئی ته (ای لوطه!) له صادقینو رښتیا ویونکیو (چه ځمونږ کارونه بد دی).

**تفسیر:** یعنی که ته په رښتیا سره نبی ئی او په واقع سره رښتیا خبره وائی چه دغه کار خراب او مستوجب د عذاب دی نو دغه ځند (ایسارتیا) او ډیل د څه دپاره دی ژر هغه عذاب مونږ ته

راوغواړه. «د الاعراف» په (۱۰) رکوع ۸۲ آیت کښې ئې داسې فرمایلي دي ﴿وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓا۟ أَخْرِجُوهُم مِّن قَرْيَتِكُمْ ۖ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ﴾
یعني د لوط علیه السلام د قوم جواب هم دغه ؤ چه د لوط کورنی له خپل کلی څخه وشړئ! چه دوی غواړی خپل ځانونه پاک وساتی ښائی د قوم ځینو افرادو به داسې ویلي وی او ځینو به هغسې ویلي وی. یا به ئې په یوه وقت کښې داسې ویلي وی او په بل وقت کښې به ئې هسې ویلي وی مثلاً ړومبی د عذاب په ویرولو به ئې توکی او مسخری کړی وی او بالاخر به ئې داسې فیصله کړی وی چه راځئ دغه پاک مسلمانان له خپلو کلیو وشړو په هر حال دغه خبره ثابته شوه چه نه یواځې هغه قوم د دغه شنیع فعل مرتکب او بانی ؤ بلکه د هغه په جریان کښې ئې دومره اصرار هم درلود (لرلو) چه د نصیحت کوونکی پیغمبر د باندی شړلو لپاره ئې هم ملاوی تړلی وی د دوی فطرت او طبایع دومره قدر مسخ او په بل مخ اوښتی ؤ چه د الله تعالیٰ د خوف هیڅ یوه شائبه په کښې نه وه پاتی! د عذاب د انذار او ویرولو په نسبت به ئې توکی او مسخری کولی او د نبی د مقابلی لپاره بیخی تیار ولاړ ؤ. د جرم دغه نوعیت د دوی د اهلاک لپاره بیخی بس او کافی ؤ کله چه له هغه سره د توحید منکران هم ؤ «نو له بد څخه بدتر» او «خاوری ئې په سر» شوی معلومیږی چه د توحید دعوت د حضرت ابراهیم علیه السلام له جانبه مشتهر شوی ؤ ـ نو ځکه حضرت لوط علیه السلام مخصوصاً د دغه شنیع فعل د انسداد لپاره مأمور شوی ؤ. امکان لری چه ده د توحید او د نورو مؤمن به شیانو دعوت او تبلیغ هم کړی وی مګر د هغه ذکر ئې دلته نه دی فرمائلي والله اعلم.

قَالَ رَبِّ ٱنصُرْنِى عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٣٠﴾ ع

وویل (لوط) ای ربه ځما مدد وکړه له ماسره (په لیږلو د عذاب) پر دغه قوم مفسدانو (په پیدا کولو د ناکاره خصلت په عالم کښې).

**تفسیر:** دغه ئې وروسته له هغه چه له هغوی څخه ناامیده او مأیوس شو وفرمایل. ښائی لوط علیه السلام به په دې پوهیدلی وی چه د دوی راتلونکی نسل به هم د عدل او اصلاح په لاره سمیدونکی نه وی او هغوی به هم د هم دغو خپلو پلرونو په لاره روان وی لکه چه نوح علیه السلام فرمائلي ؤ ﴿إِنَّكَ إِن تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا۟ عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوٓا۟ إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا﴾ (د سوره نوح دوهم رکوع ۲۷ آیت (۲۹) جزء) کذا قال النیشا پوری فی تفسیره.

وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَآ إِبْرَٰهِيمَ بِٱلْبُشْرَىٰ قَالُوٓا۟ إِنَّا مُهْلِكُوٓا۟ أَهْلِ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ ۖ إِنَّ أَهْلَهَا كَانُوا۟ ظَٰلِمِينَ ﴿٣١﴾

او کله چه راغلل رسولان (ليږلي) څمونږ ابراهيم ته په زيرى (د ځوى او لمسي د ده) نو وويل (دغو ملائکو) بيشکه مونږ هلاک کوونکي يو د اهل د دغه کلي (او ښار د لوط) بيشکه چه اهل د دغو ځايونو وو دوى ظالمان (په سبب د کفر او منکراتو)

**تفسير:** د لوط عليه السلام د دعاء په اثر پرښتو ته حکم وشو چه دغه گرد (تول) کلي سره وران او تباه کړئ! دغه پرښتي ړومبى د حضرت ابراهيم کره راغللى او په زوړوالي کښي ئى ورته د ځوى او لمسي بشارت ورکړ او هغه ئى مطلع کړ چه مونږ د دغو کليو (سدوم) ورانولو ته هم راغلي يو او دغه دى هلته ورځو ځکه چه د دغو کليو هستيدونکي په هيڅ ډول (طريقه) سره له خپلو شنيعه ؤ حرکاتو څخه بيرته نه آوړى د دغو واقعاتو تفصيل د اعراف ـ هود ـ او حجر په سورتونو کښي پخوا تير شوى دى.

**تنبيه:** ښائى د اهلاک د اطلاع سره يو ځاى د هلک د زيرى ورکولو څخه دغه مطلب وى که له يوه قوم ځني الله تعالىٰ خپل ملک تشوى نو د بل عظيم الشان قوم يعني د بني اسرآئيل اساس هم سر له نن ورځي ږدى نبه عليه العلامه النيشاپورى فى تفسيره.

قَالَ إِنَّ فِيهَا لُوطًا ۚ قَالُوا نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَن فِيهَا ۖ لَنُنَجِّيَنَّهُ وَأَهْلَهُ إِلَّا امْرَأَتَهُ كَانَتْ مِنَ الْغَابِرِينَ ﴿٣٢﴾

وويل (ابراهيم ملائکو ته) چه بيشکه په هغه ښار کښي لوط (هم) دى وويل دغو ملائکو مونږ ښه پوه يو په هر هغه چا چه په دغه ښار کښي دى خامخا به مونږ نجات ورکړو هرومرو (خامخا) هم ده ته او هم کورنى د ده ته مگر ښځه د ده چه ده هغه له پاتي کيدونکيو (په عذاب کښي).

**تفسير:** يعني آيا سره د لوط عليه السلام د موجوديت هغه کلي ورانوئ؟ يا هغوى به له هغه ځايه راوباسئ؟ او بيا د تعذيب په عملياتو لاس پورى کوئ؟ غالباً ابراهيم عليه السلام ته به د شفقت له سببه دغه خيال پيدا شوى وى که د لوط عليه السلام تر سترگو لاندى دغه آفت او عذاب نازل شي ـ نو د تعجب ځاى نه دى چه د عذاب د دغه هولناکو مناظرو د ليدلو ځني څه خوف او وحشت او ويره ورپيدا نه شي ـ ځکه چه پرښتي په خپل کلام کښ څه استثناء نه وه کړى چه د هغه لامله (له وجې) د دوى په ذهن کښي به هم دغه شق راغلي وى چه د لوط عليه السلام په موجوديت کښ به دغه تخريبي عمليات شروع کيږى والله اعلم.

پرښتو دوی ته اطمینان ورکړ چه مونږ تول په دی باندی خبردار یو چه څوک هلته اوسیږی؟ او کوم کوم ئی د الله تعالیٰ مجرمان دی؟ یواځی لوط علیه السلام په هغوی کښی پاک او صاف دی ـ نو ځکه نه لوط علیه السلام ته او نه د ده نوری کورنی ته څه ربړ او تکلیف ور متوجه کیږی ـ بلکه تول سره روغ رمټ صحیح ـ سالم نجات مومی او د عذاب له منطقی څخه لری کیږی. یواځی د لوط علیه السلام ښځه هم هغلته پاتی کیږی ځکه چه هغه په معذبینو کښی شامله او عذاب پر هغی هم نازلیدونکی دی.

وَلَمَّآ أَن جَآءَتْ رُسُلُنَا لُوطًا سِىٓءَ بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا

او کله چه راغلل رسولان ځمونږ لوط ته نو خپه شو (لوط) په (سبب د) دوی او تنګ شو په دوی له جهته د زړه (چه منکران به ئی راڅخه بوځی)

**تفسیر:** دغه پرښتی د ډیرو حسینو او جمیلو او ښکلو هلکانو په شکل او د امردانو په شکل هلته ورسیدی. حضرت لوط علیه السلام ړومبی دوی ونه پیژندلی نو ځکه د دوی د لیدلو څخه ډیر خپه او غمجن او لړمون خوړین شو چه اوس به زه د دغو میلمنو عزت او احترام د خپل قوم له لاسه څرنګه وساتلی شم که دوی پخپل کور کښی ونه ساتم نو دغه وضعیت د اخلاق ـ مروت او د میلمه پالنی له اصولاتو سره منافات لری ـ او که ئی ساتم نو د دوی پت ـ عزت او ناموس به د دغو بدکارانو څخه څرنګه وساتلی شم.

وَقَالُوا۟ لَا تَخَفْ وَلَا تَحْزَنْ ۖ إِنَّا مُنَجُّوكَ وَأَهْلَكَ
إِلَّا ٱمْرَأَتَكَ كَانَتْ مِنَ ٱلْغَٰبِرِينَ ﴿٣٣﴾ إِنَّا مُنزِلُونَ عَلَىٰٓ أَهْلِ
هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ رِجْزًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ بِمَا كَانُوا۟ يَفْسُقُونَ ﴿٣٤﴾

او وویل دغو (ملائکو لوط ته) مه ویریږه ! او مه خپه کیږه ! بیشکه مونږ نجات درکونکی یو د تا او د اهل ستا (ای لوطه! له عذابه) مګر ښځه ستا ده هغه له پاتی کیدونکیو (په دغه عذاب کښی) بیشکه مونږ نازلوونکی یو پر اهل د دی قریی (ښار د سدوم) باندی عذاب له آسمانه (چه د ګټو ورول دی) په سبب د دی چه ؤ دوی چه فسق او بدکاری به ئی کوله.

**تفسیر:** یعنی د خپل قوم له شرارته څخه له سره مه ویریږئ ځکه دوی ځمونږ په نسبت هیڅ نشی

کولی او ځمونږ د ساتنی لامله (له وجی) تاسی هرگز مه غمجن کیږئ ځکه چه مونږ انسانان نه بلکه پرښتی یو چه ستا او ستا د ملگریو د نجات دپاره او د دغو مفسدانو اهلاک او افناء ته راغلی یو دغه قصه پخوا له دی نه په خو ځایونو کښی تیره شوی ده.

وَلَقَد تَّرَكْنَا مِنْهَا آيَةً بَيِّنَةً لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٣٥﴾

او خامخا په تحقیق پریښوده مونږ له هغی (قریبی ښار) یوه نښه ښکاره دپاره د هغه قوم چه عقل لری (او عبرت پری اخلی).

**تفسیر:** یعنی د دوی د منقلبو او الته شویو کلیو آثار او نښی مکیان د شام او مکی پر لاره له لری وینی.

وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا فَقَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَارْجُوا الْيَوْمَ الْآخِرَ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿٣٦﴾

او (لیږلی مو ؤ اهل د) مدین ته ورور د دوی شعیب پس وویل (دغه شعیب) ای قومه ځما عبادت کوئ (یواځی) د الله او امید لرئ (د ثواب) د ورځی وروستنئ (او وویریږئ له عذابه ئی) یعنی د آخرت له طرفه مه غافلیږئ او د واحد الله تعالیٰ بی له شریکه عبادت کوئ. او مه گرځئ تاسی په ځمکه (د مدین) کښی په دغه حال کښی چه فساد کوونکی یئ.

**تفسیر:** د فساد او خرابی اچولو څخه مراد په معاملاتو او راکړه او ورکړه کښی چل ـ فریب او دغابازی ده چه سود سوائی او غیر مشروعه گټی خوړل د دوی عادت ؤ ـ او امکان لری چه غلا او د لارو شکونه به ئی هم کوله. وقیل غیر ذلک.

فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دَارِهِمْ جَاثِمِينَ ﴿٣٧﴾ وَعَادًا وَثَمُودَ وَقَد تَّبَيَّنَ لَكُم مِّن مَّسَاكِنِهِمْ

پس دروغجن وباله دوی دغه (شعیب) پس ونیول دوی لره سختی زلزلی (یا

چغی د جبریل) پس صبا کړ دوی په کورونو خپلو کښی (مړه) پړمخی پراته نسکور پر څنگنونو. او (هلاک کړی مو وو قوم د) عاد او ثمود او په تحقیق ښکاره شوی دی تاسی ته (اهلاک د دوی) له کورونو د دوی (چه ورانی کنډوالی ئی پرتی دی)،

**تفسیر:** یعنی د دوی د کلیو کنډوالی او ویجاړی او ورانی شوی ودانی تاسی لیدلی دی ښائی چه له هغو څخه پند او عبرت واخلئ!.

وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ وَكَانُوْا مُسْتَبْصِرِيْنَ ﴿٣٨﴾

او ښایسته کړی ؤ دوی ته شیطان عملونه د دوی پس اړولی ؤ (دغه شیطان) دوی له لاری د حق (چه د خپلو انبیاؤ متابعت ئی ونه کړ) او ؤ دوی بینایان (هوښیاران).

**تفسیر:** یعنی د دنیا په کارونو کښی پوه او هوښیار ؤ او په خپل زعم او اتکل کښی پوهان او عاقلان ؤ مگر سره له هغه د شیطان له تیرایستلو او غولولو څخه ئی نجات ونه موند.

وَقَارُوْنَ وَفِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ وَلَقَدْ جَآءَهُمْ مُّوْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ فَاسْتَكْبَرُوْا فِى الْاَرْضِ وَمَا كَانُوْا سٰبِقِيْنَ ﴿٣٩﴾

او (هلاک کړی مو وو) قارون او فرعون او (وزیر ئی) هامان او خامخا په تحقیق راغلی ؤ دوی ته موسیٰ په معجزاتو ښکاره ؤ سره پس تکبر وکړ دوی په ځمکه (د مصر) کښی او نه ؤ دوی ړومبی کیدونکی (له حکم او عذابه ځمونږ).

**تفسیر:** یعنی سره له دی نه چه د قدرت ښکاره معجزات ئی ولیده بیا هم د الله تعالیٰ په مخ کښی ئی خپله غاړه کښینښوده او له کبره او غروره او لوئی څخه لږ څه هم راښکته نشول. بالاخره نتیجه ئی څه شوه؟ آیا دوی د خپلی دغی لوئی او مشرتوب له سببه له عذابه څخه نجات

ومونږ یا «العیاذبالله» الله تعالیٰ ئی پخپلو عذابونو کښې سترې او ستومان کړ؟

فَكُلًّا أَخَذْنَا بِذَنْبِهِۦ ۖ فَمِنْهُم مَّنْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا وَمِنْهُم مَّنْ أَخَذَتْهُ ٱلصَّيْحَةُ وَمِنْهُم مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ ٱلْأَرْضَ وَمِنْهُم مَّنْ أَغْرَقْنَا ۚ

پس هر یو له دغو مذکورینو ونیول مونږ په (سبب) د ګناه خپلې ئې پس ځینې د دوی هغه څوک دی چه ولیږل مونږ پرې سخت (کاڼی وروونکی) باد او ځینی له دوی هغه څوک دی چه ونیول دوی چغې (چه زړونه ئې وچودل)، او ځینی له دوی هغه څوک دی چه شکته ننه ایست مونږ دوی په ځمکه کښې او ځینی له دوی هغه څوک دی چه غرق کړل مونږ دوی (په اوبو کښې)،

**تفسیر:** یعنی له دوی څخه هر یوه ته سم د دوی له جرمه سزا ورکړه شوه پس ځینې د دوی هغه څوک دی چه ولیږل مونږ پرې سخت کاڼی وروونکی باد دغه د لوط علیه السلام قوم دی ځینو عادیان هم په دوی کښې داخل کړی دی. او ځینی له دوی هغه څوک دی چه ونیوه دوی چغې او زړه ئې وچاود دغه ثمودیان ؤ او اهل المدین ورسره. او ځینی له دوی هغه څوک دی چه راپورته کړه مونږ ځمکه پر دوی باندې او په کښې ډوب مو کړ یعنی قارون لکه چه په سورت القصص کښې تیر شو او ځینی له دوی هغه څوک دی چه غرق کړل مونږ دوی په اوبو کښې دغه فرعون او هامان او قبطیان دی او ځینو د نوح علیه السلام قوم هم په دوی کښې داخل کړی دی.

وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَٰكِن كَانُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٤٠﴾

او نه ؤ الله چه ظلم ئې کړی وی پر هغو ولیکن ؤ دوی پر ځانونو خپلو به ئې ظلم کاوه (په کفر او معصیت سره).

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ شان داسې نه دی چه کوم کار مخالف له عدله او انصافه یا بې موقعه وکړی د الله تعالیٰ لوی دربار له ګردو (ټولو) عیبو او نقائصو او معایبو څخه په کلی ډول (طریقه) سره مبرا او منزه دی، ظلم خو هلته له سره متصور نه دی. هو! پخپله بندګان پر خپلو ځانونو ظلم او تیری کوی یعنی داسې اعمال ترې صادریږی چه د هغو نتیجه لامحاله د دوی په حق کښې بده او خرابه ده.

مَثَلُ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْلِيَآءَ كَمَثَلِ الْعَنْكَبُوْتِ ۚ اِتَّخَذَتْ بَيْتًا ۖ وَ اِنَّ اَوْهَنَ الْبُيُوْتِ لَبَيْتُ الْعَنْكَبُوْتِ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۱﴾

مثل حال د هغو كسانو چه نيولى دى دوى بى له الله دوستان (معبودان) لكه مثل حال د عنكبوت غنى جولاگى داسى دى چه ونيسى (جوړ كړى) يو كور (له تارونو خپلو) او بيشكه چه ډير ضعيف د تولو كورونو خامخا كور د غنى دى كه چيرى وى دوى چه پوهيدلى (نو د غير الله عبادت به ئى نه كاوه).

**تفسير:** يعنى كور د دى دپاره وى چه د انسانانو ځان او مال په هغه كښى محفوظ، مصئون او مأمون وى نو د غنى (جولاگى) ځالى ته هيڅوک كور نشى ويلى چه په ادنىٰ يوه اهتزاز او خوځولو سره شكيږى هم دغه مثال د هغو كسانو دى چه ماسواء له الله ځنى نور كسان د خپلو ځانونو له پاره خدايان نيسى او هغوى د خپلو ځانونو له پاره نجات وركوونكى محافظان گنى ـ حال دا چه بى د الله تعالىٰ د ارادى او مشيته هيڅ يو فلاح او نجاح خارجى صورت نشى موندلى.

اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ شَيْءٍ ؕ وَ هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۴۲﴾

بيشكه چه الله ته معلوم دى هر هغه چه بولى ئى (عبادت ئى كوى) دوى غير له الله له هر شيزه چه وى او هم دى دى ډير غالب قوى (په انفاذ د احكامو) ډير حكمت والا (چه هر كار په تدبير او مصلحت سره كوى)

**تفسير:** يعنى ممكن ؤ چه اوريدونكى تعجب وكړى چه گرد (تول) معبودان ئى شرنگه په يوه ځنځير كښى سره وترل او هيڅ يو ئى د دوى له منځه جلا (جدا) او مستثنىٰ ونه فرمايه ځينى بتانو ته ـ ځينى اور ته ـ ځينى اوبو ته ـ ځينى باد ته ـ ځينى لمر او ستوريو ته ـ ځينى انبياء يا پرښتو ته عبادت كوى نو الله تعالىٰ فرمايى چه پاک الله ته دغه گرد (تول) شيان معلوم او عيان دى كه د دوى له منځه يو تن هم د مستقل قدرت، قوت او اختيار خاوند وى نو الله تعالىٰ به د دغو گردو (تولو) نفى نه كوله. الله تعالىٰ د هيچا رفاقت او ملگرتوب ته ضرورت نه لرى ځكه چه ډير زبردست زورور ذات دى له سره جرگو او مشورو ته حاجت نه لرى ولى چه

مطلق حکیم دی.

وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ ۚ وَمَا يَعْقِلُهَا إِلَّا الْعَالِمُونَ ﴿٤٣﴾

او دغه مذکوره مثالونه (په قرآن کښې) بیانوو مونږ دپاره د خلقو او نه پوهیږی پر دغو (مثالونو) مگر هغه پوهنده گان (چه بیخ د خبری راسپړی).

**تفسیر:** یعنی د مکی معظمی مشرکینو به ویل چه الله تعالیٰ د غنی جولاگی او د مچانو او د نورو حقیرو او سپکو شیانو مثالونه بیان فرمائی چه د ده له عظمته سره منافی دی. نو د دغه جواب ورکوی چه دغسی مثالونه د خپل موقع په لحاظ نهایت موزون او پر «ممثل له» په پوره ډول (طریقه) سره منطبق کیږی. مگر د داسی مثالونو پر مطلب یوائحی پوهان په ښه ډول (طریقه) سره پوهیږی، جاهلان او ناپوهان او بی‌وقوفان کله پری پوهیدی شی؟ د مثال انطباق د مثال ورکوونکی پر حیثیت نه ښائی چه وکړی شی بلکه هر یو مثال چه ورکړی شوی دی ښائی د هم هغه حیثیت ته وکتلی شی. که هغه حقیر او کمزور وی نو ښائی چه تمثیل ئی هم هغسی له حقیرو او کمزورو شیانو څخه وی د مثال ورکوونکی عظمت له ده سره بیخی ارتباط او تعلق نه لری.

خَلَقَ اللَّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ

پیدا کړی دی الله آسمانونه او ځمکه په حق سره (څرنگه چه مناسب ؤ)

**تفسیر:** یعنی په نهایت حکمت سره ئی جوړ کړ ـ او بیکاره ئی نه دی جوړ کړی.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٤﴾ ع

بیشکه په دغه (تخلیق یا تمثیل) کښې خامخا لوی دلیل (د قدرت) دی دپاره د مؤمنانو (چه هم دوی پری نفع اخلی)

**تفسیر:** یعنی کله چه الله تعالیٰ آسمانونه او ځمکی یوائحی جوړ کړی دی نو په نورو وړوکیو وړوکیو کارونو کښې به دی کله شریک، ملگری یا مددگار ته څه احتیاج لری (معاذ الله) که ورته ضرورت وی نو په هغو لویو لویو کارونو کښې به وی.

اُتْلُ مَاۤ اُوْحِیَ اِلَیْكَ مِنَ الْكِتٰبِ وَ اَقِمِ الصَّلٰوةَ ؕ اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَ الْمُنْكَرِ ؕ وَ لَذِكْرُ اللّٰهِ اَكْبَرُ ؕ وَ اللّٰهُ یَعْلَمُ مَا تَصْنَعُوْنَ ﴿۴۵﴾

ولوله (ای محمده) هغه چه وحی کړی شوی ده تاته له کتاب نه (چه هم دا مقدس قرآن دی) او قائموه (سم اداء کوه سره له تولو حقوقو) لمونځ بیشکه لمونځ منع کوی (لمونځ کوونکی) له بی حیائی او له بدکار څخه، او خامخا یادول د الله ډیر لوی دی او الله ته معلوم دی هر هغه (عمل) چه کوئ ئی تاسی (نو جزاء به ئی درکړی په ښه ډول (طریقه) سره)

**تفسیر:** یعنی د لوی قرآن تل تلاوت کوه! څو چه زړه دی مضبوط او قوی شی او د تلاوت اجر او ثواب بیل در په برخه شی او د قرآن معارف او حقایق له پخوا څخه ډیر انکشاف او ترقی وکړی او نور خلق هم هغه واوری او د مواعظو، علومو او برکتونو څخه ګټه (فائده) واخلی او هر څوک ئی چه ونه منی د الله تعالیٰ حجت پری تمام شی او د دعوت او اصلاح فریضه په ډیر حسن او ښه والی سره پای (آخر) ته ورسیږی، د لمانځه په سبب د بدیو نه منع کیدل دوه معنی ګانی لری یوه د تسبب په طریقه یعنی الله تعالیٰ په لمانځه کښی داسی خاصیت او تاثیر ایښی دی چه لمونځ کوونکی له ګناهونو او بدیو څخه ساتی لکه چه د کومی دوا استعمال تبه او نور امراض له سری شکوی او نه ئی پریږدی چه پری راشی په دغه صورت کښی ښائی په یاد ئی ولرئ چه د دوا دپاره دغه امر ضرور نه دی چه د هغه یوازی یو خوراک د ناروغتیا د لری کولو دپاره کافی شی څینی دواګانی په خاص مقدار سره تر یوی مودی پوری په لازمی ډول (طریقه) خوړل کیږی نو وروسته بیا دوا خپل تاثیر ښکاره کوی مشروط په دی چه رنځور کوم داسی شی استعمال نه کړی چه د دی دوا له خاصیت سره منافی وی پس لمونځ هم بی شکه ډیر تاثیر نه ډک هسی روحانی دوا ده چه د روحانی امراضو د علاج دپاره د یوه اکسیر حکم لری. هو! دغه خبره هم ورسره ضروری ده چه دوی په برابر مقدار په صحی توګه (طریقه) او احتیاط سره چه روحانی اطباؤ د هغه تجویز کړی دی تر تاکلی (مقرر کړی) نیتی پوری استعمال او پری مواظبت وکړی شی وروسته له هغه دغه مریض به په خپله حس کړی چه څرنګه لمونځ د ده پخوانی رنځوری او د کلونو کلونو ناروغی لری کوی.

بله معنی ئی داسی کیدی شی چه له بدیو څینی د لمانځه په برکت منع کیدل ښائی د اقتضاء په ډول (طریقه) وی یعنی د لمانځه هر یو هیئت او د ده د هر یو ذکر مقتضی دی. هغه انسان چه هم دا اوس د الله تعالیٰ په دربار کښی د خپل عبودیت، اطاعت، خشوع خضوع او تذلل او د الله تعالیٰ د الوهیت، ربوبیت، حکومت، مالک الملکوتیت اظهار او اقرار کړی دی نو اوس له لمانځه

وروسته او له مسجد نه د باندی دی هم په هم هغه خپل عهد او پیمان باندی تینګ ولاړ وی او بد عهدی او شرارت ونه کړی او د هغه لوی ذات له احکامو څخه منحرف نشی. ګواکی د لمانځه هره یوه اداء لمونځ کوونکی ته په پنځو وختونو کښی داسی حکم ورکوی چه ای د عبودیت او بندګی مدعی! تاته ښائی چه په رښتیا سره د عابدانو او د الله تعالیٰ د خاصو بندګانو په شان اعمال او افعال ولرئ! ځکه چه لمونځ د حال په ژبه سره له تانه غواړی چه د شرارت او سرکشی او بی‌حیائی څخه په څنګ شه اوس که څوک له دغو منهیاتو او لهویاتو څخه په څنګ کیږی که نه، لیکن لمونځ بلاشبه دی تری منع کوی او ستنوی (واپس کوی) ئی لکه چه الله تعالیٰ په خپله مونږ له هغو نه منع کوی لکه چه وائی ﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَىٰ وَيَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ﴾ جزء۱٤ (د النحل ۱۳ رکوع) ۹۰ آیت پس هغه بد بخت چه د الله تعالیٰ په منع کولو او نهی سره هم له بدو چارو څخه نه په څنګ کیږی نو که د لمانځه په منع کولو او نهی هم تری لاس وانخلی هیڅ د تعجب ځای نه دی هو! دغه دی واضح وی چه د هر لمانځه د نهی او منع کولو درجه به هم هغومره وی چه د هغه په ادا کولو کښی د الله تعالیٰ له یاده لمونځ کوونکی غافل نه وی ځکه چه لمونځ تش د څو ځلی پاڅیدلو او کیناستلو نوم نه دی، له تولو څخه لوی شی په لمانځه کښی د الله تعالیٰ قدرت، عظمت، کمال او جلال مستحضر وی او خپله ژبه او زړه سره موافق ولری هغومره به د ده زړه د لمانځه د منع کولو غږ اوری او په هم هغه اندازه دغسی لمونځ د منهیاتو په مخنیوی کښی موثر ثابتیږی که نه هغه لمونځ چه په خالی او غافل زړه سره ادا شی نو دغه لمونځ د منافق له لمانځه سره مشابهت لری چه د هغه په نسبت ئی په حدیث کښی ویلی دی **«لا یذکر الله فیها الا قلیلا»** د هم دغسی لمانځه په نسبت د **(لم یزدد بها من الله الا بعدا)** وعید راغلی دی

﴿وَلَذِكْرُ اللَّهِ أَكْبَرُ﴾ او خامخا ذکر یادول د الله تعالیٰ ډیر لوی دی» یعنی لمونځ به له بدیو ځنی ولی انسان نه ستنوی (منع کوی) کله چه هغه د الله تعالیٰ د یادولو ډیر ښه صورت دی لکه چه الله تعالیٰ وائی ﴿وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي﴾ د طٰهٰ اوله رکوع» او د الله تعالیٰ یاد ډیر لوی شی دی، دغه د الله تعالیٰ ذکر هغه مقدس شی دی چه هغه ته د لمانځه جهاد او د ګردو (تولو) عباداتو روح ویلی شو، که د الله تعالیٰ ذکر نه وی نو عبادت به څه وی یو بی روحه جسد او بی معنی لفظ به وی د حضرت ابو دردا رضی الله تعالیٰ عنه او د نورو احادیثو په ملاحظ عالمانو هم دغسی فیصله کړی ده چه له ذکر الله (د الله تعالیٰ یاد ) څخه بل کوم لوی عبادت نشته. اصلی فضیلت هم ده لره دی. که په عارضی او موقتی صورت سره کوم بل عمل په ذکر الله سبقت ومومی هغه بیله خبره ده. لیکن که غور او دقت وکړی شی نو دغه خبره باید ومنل شی کوم فضیلت چه په لمانځه کښی راغلی هغه د هم دی ذکر الله له برکته دی. په هر حال ذکر الله له ګردو (تولو) اعمالو څخه افضل دی. او هر کله چه هغه د لمانځه ضمن کښی وی نو هغه به ډیر افضل وی. پس بنده لره ښائی چه هیڅ وخت د الله تعالیٰ له ذکر او فکر نه غافل نشی. بالخاصه په کوم وخت کښی چه کومی بدی ته ئی میلان پیدا شی نو فوراً ښائی د الله تعالیٰ عظمت او جلال وریاد کړی

او له هغې منع شي. په قرآن او حديث کښې راغلي دي ٠ څه وخت چه بنده خپل الله يادوي نو الله تعالیٰ هم دی يادوی. ځينو اسلافو د دغه آيت مطلب داسې بيان کړی چه په لمانځه کښې له دی خوا بنده خپل الله يادوی نو ځکه لمونځ يو لوی عبادت دی. ليکن د دی په ځواب کښې چه د هغه طرفه الله خپل بنده يادوی دغه له ګردو (تولو) څخنی لوی شي دی چه ښائی د هغه قدر په انتهائی درجه سره وکړی او دغه شرافت او کرامت محسوس کړی، او لا زيات د الله تعالیٰ د ذکر په طرف راغب شي. کوم سړی د رسول صلی الله عليه وسلم په حضور کښې عرض وکړ چه د اسلام احکام ډير زيات دی ماته يو جامع او مانع شي راوښيه! رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل «**لا يزال لسانک رطباً من ذکرالله** ښائی تل تر تله ستا ژبه د الله تعالیٰ په ياد لونده وی».
حضرت شاه صاحب ليکی څومره ځند (ايسارتيا) چه په لمانځه کښې کيږی په هاغومره وخت کښې انسان له هرې ګناه څخه محفوظ وی هيله (اميد) ده چه وروسته له هغه هم محفوظ پاتی شي او د الله تعالیٰ ياد پر دی ډير اثر لری يعنی له ګناه څخنی ئی ژغوری (ساتی) او اعلیٰ درجو ته ئی رسوی. (موضح) دغه د «ولذکرالله اکبر» يو بل لطيف تفسير شو (والله يعلم ماتصنعون او الله تعالیٰ ته معلوم دی هر هغه عمل چه کوئ ئی تاسی) يعنی په هر اندازه چه انسان الله تعالیٰ په ياد ولری يا ئی ونه لری پاک الله ته دغه ګرد (تول) معلوم دی نو د ذاکر او غافل د هر يوه سره د هغو له عملونو سره سمه بيله بيله معامله کوی.

---

## وَلَا تُجَادِلُوٓا اَهۡلَ الۡكِتٰبِ اِلَّا بِالَّتِیۡ هِیَ اَحۡسَنُ ۖ اِلَّا الَّذِیۡنَ ظَلَمُوۡا مِنۡهُمۡ

---

او جګړه مه کوئ تاسی (ای مؤمنانو) له کتابيانو سره مګر په هغه (خصلت) سره چه هغه ډير ښه وی مګر هغه کسان چه ظلم ئی وکړ له دوی څخنی (نو ورسره په توری مجادله کوئ)

---

**تفسير:** يعنی د مشرکانو دين له اساسه غلط دی د کتابيانو دين اصلاً حق او رښتيا ؤ نو له کتابيانو سره د مشرکانو په شان جګړی مه کوئ! چه له بيخه د هغوی خبری باطلی او پری کړئ بلکه په نرمی، متانت خير غوښتنی، صبر او تحمل سره په ضروری خبرو باندی دوی وپوهوئ! هو! هغه کسان چه د دوی له منځه ښکاره بی انصافی، ظلم، عناد او سرتمبګی (سرکشی) کوی له هغوی سره په مناسب صورت د سختی او تشدد معامله کولی شئ او له دی نه وروسته دوی په سزا هم رسولی شئ ا.
**تنبيه:** پخوا د قرآن د تلاوت حکم ؤ. په زياترو وختونو کښې به منکرينو د هغه د اوريدلو څخنی په مباحثه او مناظره شروع کوله نو دا ئی راوښوده چه د مباحثی په وخت کښې د مقابلی ډلی د

علمی او دینی حیثیت خیال ضرور ولرئ! او د مناظری په څوښ کښې د اخلاقو او صداقت له حده مه وځئ! او هر چیری چه څومره صداقت وی پری اعتراف کوئ.

وَقُوْلُوْٓا اٰمَنَّا بِالَّذِیْٓ اُنْزِلَ اِلَیْنَا وَاُنْزِلَ اِلَیْکُمْ

او ووایئ تاسی چه ایمان راوړی دی مونږ په هغه (قرآن) چه نازل کړی شوی دی مونږ ته او (په هغه کتابونو چه) نازل کړی شوی دی تاسی ته

تفسیر: یعنی لکه څنګه چه مونږ په عظیم الشان قرآن ایمان راوړی دی په دی مو هم ایمان راوړی دی چه الله تعالیٰ ستاسی د هدایت دپاره حضرت موسیٰ او عیسیٰ او نورو انبیاؤ علیهم الصلوٰة والسلام ته چه کوم کتابونه او احکام لیږلی دی هغه ګرد (تول) حق او رښتیا دی. او د هغو یو حرف هم غلط نه ؤ که څه هم اوس هغه آسمانی کتابونه په خپل هم هغه اصلی صورت او حقیقت ستاسی په لاسونو کښی نه دی پاتی.

وَاِلٰـهُنَا وَاِلٰـهُکُمْ وَاحِدٌ وَّنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿۴۶﴾

او الله زمونږ او الله ستاسی یو دی او مونږ خاص الله ته غاړه ایښودونکی (موحدان) یو

تفسیر: یعنی زمونږ او ستاسی اصلی معبود یو دی یوازی دغومره یو فرق په منځ کښی شته چه مونږ یوازی د هم هغه الله تعالیٰ په حکم عمل کوو او تاسی له هغه څخه لری شوی یئ او نورو ته مو هم د الوهیت حقوق او اختیارات ورکړی دی. مثلاً حضرت عزیر یا احبارو او رهبانانو ته. سربیره (علاوه) په دی مونږ د الله تعالیٰ ګرد (تول) احکام ومنل او د ده د ګردو (تولو) انبیاو او کتابونو تصدیق مو وکړ او په حقه او رښتیا سره ئی منو او د ده د وروستی حکم په مقابل کښی مو غاړه کیښوده او تاسی ځینی ومنل او ځینی مو ونه منل او له وروستی تصدیق څخه بیخی منکر شوئ.

وَکَذٰلِکَ اَنْزَلْنَآ اِلَیْکَ الْکِتٰبَ ؕ فَالَّذِیْنَ اٰتَیْنٰهُمُ الْکِتٰبَ یُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ۚ وَمِنْ هٰٓؤُلَآءِ مَنْ یُّؤْمِنُ بِهٖ ؕ

او هم داسې (چه نازل کړې وو مونږ په نورو انبیاؤ کتابونه) نازل کړې دی مونږ په تا کتاب (قرآن)، پس هغه کسان چه ورکړې دی مونږ دوی ته کتاب (تورات) ایمان راوړی دوی په دی (قرآن) او ځینی له دغو (عربو) هغه څوک دی چه ایمان راوړی په دی

**تفسیر:** یعنی په دغه قرآن کښی ستاسی د کتابونو کوم یو حکم نشته چه تاسی د هغه په قبلولو کښی تردد لرئ ؟ هم هغسی چه پخوانیو انبیاؤ صحیفی او کتابونه په یوه پسی په بل نازلیده هم داسی په نبی آخرالزمان هم دغه لاځواب مقدس کتاب نازل شوی دی نو تاسی د هغه له منلو څخه ولی دومره انکار کوئ؟.

وَمَا يَجْحَدُ بِاٰيٰتِنَآ اِلَّا الْكٰفِرُوْنَ ﴿۴۷﴾

او نه منکریږی په آیتونو زمونږ مګر کافران

**تفسیر:** یعنی هغه کتابیان چه د خپلو حقانی کتابونو په مفهوم او مدلول په ښه شان سره پوهیدلی دی، هغوی به دغه قرآن هم ومنی او انصافاً هم ښائی چه وئی منی لکه چه له هغوی ځینی هغه کسان چه منصفان دی هغوی د ده صداقت د زړه له کومی نه یوازی کتابیان بلکه د عربو ځینی خلق هم چه په پخوانیو کتابونو بیخی نه پوهیږی، دغه قرآن هم منی په حقیقت کښی د عظیم الشان قرآن د صداقت دلائل دومره روښانه دی چه له حق پتوونکی او نه منونکو خلقو نه پرته (علاوه) بل هیڅوک د ده له صداقت او منلو څخه نشی منکریدی.

وَمَا كُنْتَ تَتْلُوْا مِنْ قَبْلِهٖ مِنْ كِتٰبٍ وَّلَا تَخُطُّهٗ بِيَمِيْنِكَ اِذًا لَّارْتَابَ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿۴۸﴾

او نه وی ته (ای محمده!) چه لوست به تا پخوا له دی قرآن څخه کوم کتاب (له پخوانیو کتابونو نه) او نه به دی لیکه دغه (کتاب) په ښی لاس خپل (او که چیری وی ته لیکونکی، لوستونکی) نو هلته به خامخا شک کاوه باطلوونکو (خلقو)

**تفسیر:** د قرآن له نزول څخه پخوا د رسول الله صلی الله علیه وسلم څلویښت کاله په هم دغو مکیانو کښی تیر شول. تول په دی پوهیږی او خبر دی چه په دغو څلویښتو کلونو کښی محمد

صلی الله علیه وسلم هیڅ یو معلم او استاد ته نه دی ناست، نه ئی کوم کتاب لوستی دی او نه ئی په خپل مبارک لاس کښې قلم اخیستی دی. که داسی وی نو امکان ئی درلود (لرلو) چه دغو باطل ویونکو به داسی شبهې او تصور کاوه چه ممکن محمد صلی الله علیه وسلم به تول پخوانی کتابونه لوستی وی او د هغو له منځه به ئی ځینی یاداشتونه او اقتباسات کړی وی او بیا به ئی هغه ورو ورو په خپل عبارت او سبک سره جوړ کړی وی چه اوس ئی خلقو ته اوروی که څه هم په هغه تقدیر سره به هم داسی ادعاء غلطه وه ځکه چه هیڅ یو لیکونکی او لوستونکی انسان لا څه بلکه که د تولی دنیا علماء او فضلاء سره راتول شی او د ګردو (تولو) مخلوقاتو قوت په دغه لاره کښې صرف شی خو بیا هم دوی داسی یو بی مثاله کتاب نشی جوړولی خو سره د هغه هم دروغجنانو ته د خبرو جوړولو یوه زمینه په لاس ورتله لیکن کله چه د محمد صلی الله علیه وسلم امینتوب له مسلماتو او منل شوو خبرو څخه دی نو د دغی سطحی شبهې بیخ هم وویستل شو خو سره له دی هم ضد کوونکو او معاندینو له خپلو دروغو پلمو (تدبیرونو) او چتی (بیکاره) خبرو خوله ونه ترله لکه چه داسی به ئی ویل ﴿ وَقَالُوٓا۟ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ٱكْتَتَبَهَا فَهِىَ تُمْلَىٰ عَلَيْهِ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ﴾ جزء ۱۸ د فرقان اوله رکوع) ٥ آیت

---

بَلْ هُوَ ءَايَٰتٌۢ بَيِّنَٰتٌ فِى صُدُورِ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ

---

بلکه دغه (قرآن) آیتونه دی ښکاره په سینو د هغو کسانو کښې چه ورکړی شوی دی هغوی ته علم (فهم یعنی مومنان چه یادوی ئی)

---

**تفسیر:** یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم له چا څخه لیکل او لوستل نه دی زده کړی بلکه دغه وحی چه په ده نازلیږی تل به بی د لیکلو سینه په سینه جاری پاتی وی او د الله تعالیٰ په فضل به د علماؤ، فضلاؤ، حفاظو او قراؤ په سینو کښې د ده د الفاظو او معانیو حفاظت کیږی. نور آسمانی کتابونه نه یادیدل او دغه کتاب یادیږی او په حفظ سره ساتلی او باقی پاتی دی لیکل پری سربیره او علاوه دی (موضح په لږ توضیح سره)

---

وَمَا يَجْحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٤٩﴾

---

او نه منکریږی په آیتونو زمونږ (هیڅوک) مګر بی انصافان ظالمان

---

**تفسیر:** یعنی د بی‌انصافی علاج به څرنګه وکړی شی که یو سړی له خپله ځانه سره داسی غوته کړی وی چه زه به له سره ړښتیا خبره نه منم او د ډیرو روښانو او څرګندو (ښکاروو) شیانو څخه به هم انکار کوم (نو د داسی وضعیت علاج نشته).

وَقَالُوا لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْهِ ءَايَٰتٌ مِّن رَّبِّهِۦ ۖ قُلْ إِنَّمَا ٱلْءَايَٰتُ عِندَ
ٱللَّهِ وَإِنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٥٠﴾

او وائی (دغه د مکی کفار) چه ولی نه نازلولی شی په دغه (محمد) معجزی له (طرفه د رب د ده ووایه (ای محمده! دوی ته) بیشکه هم دا خبره ده چه معجزی (خاص) په نزد د الله دی او بیشکه هم دا خبره ده چه زه ویروونکی ښکاره یم (له جحیم څخه).

**تفسیر:** یعنی دغه خبره زمونږ په واک (اختیار) او قبضه کښی نه ده چه کومه معجزه چه تاسی ئی غواړئ زه هغه معجزه تاسی ته دروښیم او نه د کوم نبی تصدیق په دی خبرو څه ارتباط لری. زما کار او وظیفه دا ده چه د بدی د بدو نتائجو څخه تاسی خبر کړم او په ښکاره او صافو الفاظو کښی تاسی ته د خیر او شر ګردی (تولی) لاری دروښیم که حق تعالیٰ زما د تصدیق له پاره څه معجزی هم تاسی ته ښیی اختیار لری.

أَوَلَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ
لَرَحْمَةً وَذِكْرَىٰ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٥١﴾

آیا نه دی کافی دوی ته (له جهته د معجزی دا چه) بیشکه مونږ نازل کړی دی مونږ په تا کتاب (قرآن) چه تل لوستل کیږی په دوی باندی بیشکه چه په دی (کتاب باقی الی الابد) کښی خامخا رحمت مهربانی او ذکر، پند دی دپاره د (هغه) قوم چه ایمان راوړی.

**تفسیر:** یعنی آیا دغه معجزه نه ده کافی؟ له دغه کتاب نه چه تاسی ته ئی د شپی او ورځی لولی او اوروی بله معجزه به څه وی؟ آیا نه ګورئ چه د دی کتاب منونکو او تابعانو څرنګه عقل او پوهه پیدا کړی ده؟ او څنګه د الله تعالیٰ له رحمته مستفید شوی دی.

قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ شَهِيْدًا ۚ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

ووایه (ای محمده دوی ته) کافي دی الله په منځ زما او په منځ ستاسی کښې شاهد (په صدق زما او تکذیب ستاسی) چه ورمعلوم دی هر هغه شی چه په آسمانونو کښې دی او (هر هغه شی چه) په ځمکه کښې دی

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ په ځمکه او د ده تر آسمان لاندی زه ښکاره او په څرګند دول (طریقه) د رسالت دعوی کوم چه هغه ئی اوری او ګوری بیا ورځ په ورځ ماته او زما نورو ملګرو ته ترقي او پرمخ تګ راپه برخه کوی او تعداد او شمیر مو را زیاتوی او پرله پسی دول (طریقه) زما د دغی دعوی عملی تصدیق کوی. زما په ژبه زما په لاسونو د قدرت داسی خارق العاده معجزی څرګندیږی (ښکاره کیږی) چه د هغو د مثل او نظیر له وړاندی کولو څخه تول پیریان او انسانان عاجز دی. آیا زما د صداقت لپاره د الله تعالیٰ دغه شهادت کافی نه دی؟

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْبَاطِلِ وَكَفَرُوْا بِاللّٰهِ ۙ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۵۲﴾

او هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی په باطل او کافران شوی دی په الله دغه کسان هم دوی زیانکاران دی (چه کفر ئی په ایمان بدل کړی دی)

**تفسیر:** د انسان لویه بدبختی او زیان دا دی چه دروغ خبره که څه هم وړه او په ښکاره دول (طریقه) باطله هم وی ژر منی او رښتیا خبره که څه هم صافه او ښکاره او واضحه هم وی نه ئی منی او تری انکار کوی.

وَيَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ ؕ وَلَوْلَآ اَجَلٌ مُّسَمًّى لَّجَآءَهُمُ الْعَذَابُ ؕ وَلَيَاْتِيَنَّهُمْ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۵۳﴾

او بیړه (تلوار) کوی (دغه کفار) په تا په راتلو د عذاب او که نه وی (هغه) نیته تاکلی (مقرر) شوی (له پاره د عذاب) نو خامخا راغلی به وو دغو (ژر غوښتونکو) ته عذاب (سم د لاسه) او خامخا رابه شی دا عذاب دوی ته یو ناڅاپه حال دا چه دوی به نه وی خبر (د راتګ په وخت ئی)

**تفسیر:** یعنی منکران وائی که مونږ په ناحقه او باطله یو نو په مونږ باندی ولی په هم دی دنیا کښی آفت او بلا نه نازلیږی ؟ نو د دوی د دغی غوښتنی ځواب داسی ورکړ شو چه که نه وی هغه نیته تاکلی (مقرر) شوی نو خامخا به راغلی ؤ دغو ژر غوښتونکو ته عذاب سم د لاسه او خامخا رابه شی دا عذاب دوی ته یو ناڅاپه حال دا چه دوی به نه وی خبر د راتګ په وخت ئی یعنی هر شی په خپل تاکلی (مقرر) وخت کښی راتلونکی دی. مه وارخطا کیږئ تاسی هرومرو (خامخا) په هم هغه مطلوبه بلا او آفت اخته کیدونکی یئ. حضرت شاه صاحب لیکی «د دغه امت عذاب هم دغه ؤ چه د مسلمانانو په لاس قتل او قید شول لکه د مکی معظمی په فتح کښی ګرد (تول) مکیان بیخبره وو چه محمدی لښکر په دوی ورغی».

---

يَسْتَعْجِلُونَكَ بِالْعَذَابِ ۚ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌ بِالْكَافِرِينَ ﴿٥٤﴾
يَوْمَ يَغْشَاهُمُ الْعَذَابُ مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ
وَيَقُولُ ذُوقُوا مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٥٥﴾

---

بیره (تلوار) کوی کفار په تا په (راتلو) د عذاب (په دنیا کښی) حال دا چه بیشکه دوزخ خامخا احاطه کوونکی دی په کافرانو (یاده کړه ای محمده ! هغه) ورځ چه لاندی به کړی دوی عذاب له پاسه (د سرونو) د دوی او له لاندی د پښو د دوی نه او ویه وائی دوی ته (الله د پرښتو په ژبه) وڅکئ تاسی (خوند د سزا) د هغه (عمل) چه وئ تاسی چه کاوه به مو (په دنیا کښی)

---

**تفسیر:** دلته به له عذاب څخه ښائی د آخرت عذاب مراد وی لکه چه له ځواب څخه ئی معلومیږی یعنی دوی د آخرت عذاب چتی (بیکاره) غواړی، دوی خو هم دا اوس په هم هغه عذاب کښی پراته دی. دغه کفر شرک او عصیان که دوزخ نه دی نو څه شی دی؟ چه دوی ئی له هری خوا چار چاپیر نیولی او احاطه کړی ئی دی. له مرګه وروسته د دغو ګردو (تولو) خبرو حقایق دوی ته د سر په سترګو ورښکاره کیږی او دوی به ګوری چه په څه شان به دوی د دوزخ په اور کښی سوځی؟ په تیره بیا څه وخت چه د دوی هم دغه اعمال د جهنم د اور مار او لړم په شان متمثل کیږی او دوی عذابوی.
دا به الله تعالیٰ وائی یا به هم هغه عذاب وائی لکه چه د زکوٰة نه ورکوونکی په باب په حدیث کښی راغلی دی چه د هغه مال به مار ګرځاوه شی او د ده په غاړه کښی به لکه غاړکی لویږی او دی به له ستونی څخه نیسی او څیروی به ئی او داسی به ورته وائی چه زه ستا مال یم او زه

ستا خزانه یم.

يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ اَرْضِيْ وَاسِعَةٌ فَاِيَّايَ فَاعْبُدُوْنِ ﴿۵۶﴾
كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ثُمَّ اِلَيْنَا تُرْجَعُوْنَ ﴿۵۷﴾

ای بندګانو زما هغو چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو!) بیشکه ځمکه زما ارته ده (نو د ویرې له ځای نه د امن ځای ته هجرت وکړئ!) پس خاص ما لره عبادت کوئ تاسی (په هر هغه ځای کښې چه مامون اوسئ!) دغه د مکې معظمې کفار که تاسی ربړوی (تکلیفوی) او خپه کوی نو د الله تعالیٰ ځمکه خو تنګه نه ده بل چیری لاړ شئ او هلته د الله تعالیٰ په عبادت مشغول شئ!. هر یو نفس (ژوندی) څکوونکی د مرګ دی (یعنی خامخا مری) بیا (خاص) مونږ ته (په بعث بعد الموت سره) راوستل کیږی (د جزاء له پاره)

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب لیکی «کله چه کفارو په مکه معظمه کښې ډیر زور او قوت د مسلمانانو په خلاف پیدا کړ نو مسلمانانو ته حکم وشو چه هجرت وکړئ! لکه چه د مسلمانانو اتیا یا دری اتیا کورنی حبشی ته لاړی، د همغه په نسبت دلته وائی چه دغه د څو ورځو ژوندون هر چیرته چه ممکن وی هم هغلته ئی تیر کړئ بیا وروسته له هغه ګرد (تول) سره یو ځای کیدونکی یئ! او ماته راتلونکی یئ! په دغه سره مهاجرینو ته تسلی ورکړی شوه څو په دوی د حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم مفارقت (جدائی) او د وطن لری والی آسان شی او د ډیرو زیاتو تکلیفونو او زحمتونو احساس ونه کړی.» ګواکی دغه ئی ور وښودل چه وطن، اقارب، خپل، خپلوان، دوستان، یاران لوی، واړه او نور نن یا سبا هرومرو (خامخا) له تاسی څنی جلا (جدا) کیدونکی دی فرض ئی کړئ که نن مو له مکې معظمې څخه هجرت ونه کړ نو یوه ورځ خو خامخا له دغی دنیا څخه هجرت کوونکی یئ مګر هغه تلل به بی اختیاره وی. د بندګی او عبادت مفهوم دا دی چه په خپله خوښه او اختیار سره له هغو شیانو څخه ځان وساتئ چه د حقیقی معبود د عبادت په لیار کښې مزاحم کیږی او خلل پیدا کوی.

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَنُبَوِّئَنَّهُمْ مِّنَ الْجَنَّةِ غُرَفًا
تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۭ نِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِيْنَ ﴿۵۸﴾

الَّذِينَ صَبَرُوا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٥٩﴾

او هغه (کسان) چه ایمان ئې راوړی دی او کړی ئې دی ښه (عملونه) خامخا ځای به ورکړو مونږ هرومرو (خامخا) دوی ته له جنته په جګو (اوچتو) مانیو کښې چه بهیږی لاندی له (ونو او مانیو د) هغو ویالی (څلور) حال دا چه تل به اوسیږی په دغو (مانیو کښې) ښه دی اجر د دغو عمل کوونکو (دا جنت هغه (عاملان) چه صبر ئې کړی (په طاعت او مصیبت او له معصیت نه) او (خاص) په رب خپل توکل کوی

**تفسیر:** یعنی هر څوک چه له صبر او استقلال سره سره د ایمان او اسلام په لاره تینګ ثابت او قایم وی او په پاک الله اعتماد او توکل وکړی او خپل کور او کهول پریږدی او له خپل وطن څخه ووځی نو دوی ته به د دغه وطن په بدل هغه بل وطن ور په برخه کیږی او د دی ځای له کورونو څخه به ښه کورونه ورته ورکړل شي.

وَكَأَيِّن مِّن دَابَّةٍ لَّا تَحْمِلُ رِزْقَهَا اللَّهُ يَرْزُقُهَا وَإِيَّاكُمْ ۚ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٦٠﴾

او ډیر دی له خوځیدونکو (ذیروحو په ځمکه) چه نه پورته کوی دوی رزق خپل (له وجی د ضعف) الله رزق رسوی هغوی ته او تاسی ته هم او هم دی ښه اوریدونکی (د تولو اقوالو) ښه پوه دی (په تولو احوالو)

**تفسیر:** په دغه سره ئې د روزی له پلوه اطمینان او داډ راکړ چه د زیاترو ساکښانو (جاندارو) په ځایونو کښې د بلی ورځی خوراک او روزی نه وی، په نوی ورځی کښې نوی روزی وررسیږی (موضح) بیا نو هغه الله تعالیٰ چه ساکښانو (جاندارو) ته رزق، روزی رسوی آیا خپلو وفادارو عاشقانو او خاصو بندګانو ته به ئې نه رسوی؟ ښه وپوهیږئ چه حقیقی رزاق خو هم هغه دی چه د ګردو (تولو) خبری اوری د دوی د زړونو په اخلاص پوهیږی د هر یوه ظاهر و باطن ده ته څرګند او ښکاره دی، د هیڅا زیار (محنت) او خواری د ده په دربار کښې بی ځایه نه پاتی کیږی، هغه خلق چه د الله تعالیٰ په لیاره کښې خپل وطن پریږدی او محض لله وتلی وی د دوی دغه هجرت له سره نه ضایع کیږی دوی دی د معیشت د وسائلو او د سامان د ورلو چه له خپله ځانه سره ئې یوسی هیڅ فکر ونه کړی څومره ساکښان (جاندار) دی چه د دوی رزق روزی د دوی په شاګانو نه دی بار او له خپلی روزی سره هر چیری نه ګرځی خو حقیقی رازق دوی ته

هره ورځ رزق او روزي رسوي.

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٦١﴾

او قسم دی که سوال وکړی ته له دوی نه (ای محمده ! داسی) چه چا پیدا کړی دی آسمانونه او ځمکه ؟ او مسخر کړی (په کار ئی اچولی) دی لمر او سپوږمی نو خامخا وائی هرومرو (خامخا) (د مکی کفار چه) الله (پیدا کړی دی له دغه اقراره سره سره) پس څرنګه دوی ګرځولی شی (له توحید څخه)

تفسیر: یعنی تاسی ګرد (تول) پوهیږئ چه د رزق او روزی تول آسمانی او ځمکنی اسباب الله پیدا کړی دی نو بیا ولی پری اعتماد او اطمینان نه کوئ ؟ چه هم هغه به ئی دررسوی مګر په هم هغه میچ او اندازه چه د الله تعالیٰ اراده وی نه هغومره چه تاسی ئی غواړئ دغه ئی په راتلونکی آیت کښی راښولی دی (موضح)

اَللَّهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَن يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَيَقْدِرُ لَهُ إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٦٢﴾

الله پراخوی رزق دپاره د هر هغه چا چه اراده وکړی (د پراخی ئی) له بندګانو خپلو څخه او تنګوی ئی په ده (که اراده وکړی د تنګی ئی) بیشکه چه الله په هر شی ښه عالم دی

تفسیر: یعنی په میچ او اندازه کوی ئی داسی نه چه بیخی ئی نه ورکوی بیشکه چه الله تعالیٰ په هر شی باندی ښه عالم دی یعنی په دی باندی یوازی هم دی عالم او خبر دی چه چاته ئی ورکړی؟ او څومره ئی ورکړی؟

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّن نَّزَّلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ

مِنۢ بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ۚ قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ۚ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۶۳﴾

او بیا قسم دی چه که سوال وکړی ته له دوی نه (ای محمده ! داسی) چه چا نازلی کړی دی (له طرفه) د آسمان (څخه اوبه پس ژوندی کړی ئی ده په دی اوبو سره ځمکه پس له مرګه (او وچوالی) د دی نو خامخا وائی دوی هرومرو (خامخا) چه الله (نازلی کړی دی! نو له دغه اقرار سره سره ولی شریک ورته پیدا کوی) ووایه (ای محمده!) توله ثناء الله ته ده بلکه زیاتری د دوی نه لری عقل (ځکه د دوی اقوال تناقض لری)

**تفسیر:** یعنی باران هم په هر چا او هر ځای یو برابر نه اوری هم داسی د حال او احوال په بدلولو کښی هم دومره ځند (ایسارتیا) او ډیل نه پیښیږی یا کله الله په لږ وخت کښی خوار او غریب غنی او شتمن ګرځوی.

وَمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَاۤ اِلَّا لَهْوٌ وَّلَعِبٌ ۚ وَاِنَّ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ لَهِيَ الْحَيَوَانُ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿۶۴﴾

او نه دی دغه ژوندون (لږ خسیس د) دنیا مګر عبث او لوبی دی او بیشکه چه دار، آخرت خامخا هم هغه دی واقعی حیات (او ژوندون) که چیری وی دوی چه پوهیدلی. (نو نه به ئی غوره کوله دنیا په آخرت)

**تفسیر:** یعنی انسان ته ښائی چه د دی دنیا په څو ورځنی ژوندون کښی زیاتره د آخرت په فکر کښی اوسی ځکه چه اصلی او دائمی ژوندون هم هغه دی. نه ښائی چه څوک د دنیا په لوبو او تماشو کښی ډوب او د آخرت له فکر او یاد څخه بیخی غافل شی. بلکه د دی دنیا په ژوندون کښی ښائی د هغی دنیا دپاره تیاری وکړی او د عقبیٰ د سفر دپاره ځان ته څوړی او توښه برابره کړی.

فَاِذَا رَكِبُوْا فِى الْفُلْكِ دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۚ فَلَمَّا نَجّٰىهُمْ اِلَى الْبَرِّ اِذَا هُمْ يُشْرِكُوْنَ ﴿۶۵﴾ لِيَكْفُرُوْا بِمَاۤ

اٰتَیْنٰهُمْ ۚ وَ لِیَتَمَتَّعُوْا ٝ فَسَوْفَ یَعْلَمُوْنَ ﴿۶۶﴾

پس هر کله چه سپاره (سواره) شي دوی په بېړی (یا جهاز) کښې نو بولي دوی (هلته یوازی) الله په داسی حال کښې چه خالص کوونکي وی دوی دغه (الله) ته دین (اعتقاد) خپل پس هر کله چه نجات ورکړی (الله) دوی ته وچې ته ناڅاپه دوی بیا شریکان نیسی له الله سره (لکه پخوا) دپاره د دې چه کافران منکران شي دوی په هغه نعمت چه ورکړی ؤ مونږ دوی ته او چه ګټه (فائده) واخلي دوی (په عبادت د بتانو) پس ژر به پوه شي دوی (په عاقبت د کار خپل)

**تفسیر:** یعنی لازم خو داسی ؤ چه انسان په دنیوی عیش او عشرت کښې په دې اندازه اخته او مشغول نشي چه د الله تعالیٰ او د عقبیٰ له یاده بیخي غافل شي. لیکن د خلقو دا عادت دی هر کله چه د دوی جهاز یا بېړی طوفاني شي نو په ډېر اخلاص او پوره عقیدی سره پاک الله یادوی بیا څه وخت چه هغه آفت او مصیبت د دوی څخه لرې شي او صحیح او سلامت په وچه کښې قدم کېږدي نو د الله تعالیٰ هغه ګرد (تول) انعامونه او احسانونه هېروی، بیا د هم هغو باطلو معبودانو په عبادت او صفت لګیا کېږی ګواکې مطلب دا شو چه د الله تعالیٰ د نعمتونو ناشکری او کفران کوی. او په دنیوی خوندونو او چرچو کښې مشغولېږی خیر ښه دی دوی دی څو ورځې نور هم د خپل زړه دغه هوسونه او ارمانونه وباسي، هغه وخت ډېر نژدې دی چه دوی ته دغه خبره روښانه او څرګنده (ښکاره) شي چه د دغه بغاوت شرارت، احسان هېرول د نعمت کفران او د نورو ګناهونو نتایج به څرنګه وی؟

اَوَ لَمْ یَرَوْا اَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا اٰمِنًا وَّ یُتَخَطَّفُ النَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ ؕ اَفَبِالْبَاطِلِ یُؤْمِنُوْنَ وَ بِنِعْمَةِ اللّٰهِ یَكْفُرُوْنَ ﴿۶۷﴾

آیا نه وینی (نه پوهېږی) چه بېشکه مونږ ګرځولی مو دی (دا ښار د دوی مکه) حرم امن ورکوونکی (له آفتونو نه) حال دا چه چور کېږی (تښتولی کېږی) نور خلق له چاپېره د دوی آیا پس په باطلو معبودانو ایمان راوړی دوی او په نعمت د الله (چه حرم کښې اوسیدل او امن دی) کافران کېږی.

**تفسیر:** د مکې معظمې خلق د بیت الله په برکت د دښمنانو د تېرې او ضرر څخه محفوظ ؤ. حال دا چه نور د عربستان په ګردو (تولو) ځایونو کښې د فتنې، فساد، جدال، قتال، جنګ او

جنجال بازارونه تاوده وو نو دوی د باطلو معبودانو په دروغو احسان مني. مگر د پاک الله دغه واضح او ښکاره احسان نه مني.

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِالْحَقِّ لَمَّا جَاءَهُ ۚ أَلَيْسَ فِي جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكَافِرِينَ ﴿٦٨﴾

او څوک دی ډیر ظالم له هغه چا چه له ځانه وتړی په الله دروغ (چه بی حجته ورته شریک نیسی) یا تکذیب وکړی د حق (رسول او قرآن) کله چه راشی هغه ده ته (بلکه له ده نه ډیر ظالم نشته) آیا نشته «بلکه شته» په دوزخ کښې ځای د هستوګنی له پاره د کافرانو

**تفسیر:** یعنی له ګردو (تولو) څخنی لوی ظلم او ناانصافی دا ده چه بل کوم مخلوق د دی لوی خالق شریک وګرځول شی، یا پاک الله ته د داسی خبرو نسبت وکړی شی چه د الوهیت له شان او عظمت سره وړ (مستحق) او لایق نه وی. یا د هغو انبیاؤ په تکذیب او دروغجنولو لاس پوری کړی چه د رب العزت له جانبه ئی دیانت او صداقت راوړی وی آیا دغو ظالمانو ته نه ده معلومه چه د منکرانو د هستوګنی ځای دوزخ دی چه په داسی بیباکی او بیحیائی سره د عقل او انصاف په مری چاړه کاړی.

وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ۚ

او هر څه هغه کسان چه کوښښ کوی تل په (دین د) مونږ کښې خامخا وبه ښیو هرومرو (خامخا) دوی ته لاری خپلی (چه مونږ ته پری راځی)

**تفسیر:** یعنی هغه کسان چه یوازی د الله تعالیٰ لپاره محنتونه کوی او ربړونه (تکلیفونه) ګالی (برداشت کوی) او په راز راز (قسم قسم) مجاهداتو کښې مشغول او لګیا وی الله تعالیٰ دوی ته د بصیرت یوه خاصه رڼا(رڼرا) او نور ور په برخه کوی او د خپل قرب او رضاء یا د جنت او د لقاء لیاری ورښیی، څومره چه دوی په ریاضتونو او مجاهداتو کښې ترقی او پرمخ تګ کوی هغومره د دوی د معرفت او انکشاف درجه هم لوړیږی او په داسی خبرو پوهیږی چه بل څوک د هغه له سره احساس نشی کولی.

وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ ﴿٦٩﴾

او بیشکه الله خامخا له نیکوکارانو سره دی (په مرسته (مدد) کښې)

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ حمایت او مرسته (مدد) د نیکی کوونکو سره دی.

**تمت سورة العنکبوت بفضل الله تعالی فلله الحمد والمنة**

«سورة الروم مکیة الا آیة (۱۷) فمدنیة وهی ستون آیة وست رکوعات رقمها (۳۰) تسلسلها (۸٤) نزلت بعد سورة الانشقاق ـ»

د الروم سورت مکی دی پرته (علاوه) د (۱۷) آیت چه مدنی دی (٦۰) آیتونه او (٦) رکوع لری په تلاوت کښې (۳۰) او په نزول کښې (۸٤) سورت دی. وروسته د «الانشقاق له سورت څخه نازل شوی دی»

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

شروع کوم، په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

الٓمٓ ﴿١﴾ غُلِبَتِ الرُّومُ ﴿٢﴾ فِيٓ أَدْنَى الْأَرْضِ

مغلوب کړی شو (اهل د) روم په متصله (نژدی) ځمکه کښې (ځمکی د عربو ته)

**تفسیر:** له «ادنی الارض» لګیدلی ځمکه یا رانژدی ځمکی څخه مراد د «اذرعات» او «بصری» په منځ کښې سیمه ده چه د شام په سرحد د حجاز سره نښتی او معظمی مکی ته نژدی پرته ده. یا به تری فلسطین مراد وی چه د رومیانو ملک نژدی ؤ یا به د «ابن عمر جزیره» مراد وی چه «فارس» ته ډیره نژدی پرته ده. ابن حجر د ړومبنی قول تصحیح کړی ده. والله اعلم

وَهُم مِّنۢ بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُونَ ﴿٣﴾ فِي بِضْعِ سِنِينَ ۗ

او دغه (رومیان) وروسته له دغه مغلوبیت د دوی ژر به بیا غالب شی (په

## پارسیانو) په خو کلونو کښې

**تفسیر:** یعنی د نهو کلونو په منځ کښې به رومیان غالب شي ځکه چه په لغت او حدیث کښې د «بضع» اطلاق له دریو ځنې تر نهو پورې شوی دی. په دغو آیتونو کښې عظیم‌الشان قرآن یو عجیب او غریب پخوا ویل پیشگوئی کړې ده چه د ده په صداقت یو لوی دلیل دی. واقعه داسې ده د دغې زمانې دوه لوی سلطنتونه «فارس» او «روم» له ډیرو کلونو را په دیخوا په خپلو منځونو کښې سره په جنگ اخته وو له «۶۰۲» عیسوی کال څخه د «۶۱۴» عیسوی کال تر آخره پورې د دوی د حریفانه جنگونو سلسله جاري وه لکه چه د «انسائیکلو پیډیا بریټانیکا (د برتانیې دائرة المعارف) د تصریحاتو څخه ښکاره ده په (۵۷۰) عیسوی کال کښې د محمد رسول الله شریف ولادت واقع او څلویښت کاله وروسته په سنه (۶۱۰) عیسوی کښې په نبوت مبعوث شو. مکیانو ته د روم او د فارس د جنگونو په متعلق خبرونه او اطلاعات رسیدل. په دغه وخت کښې د نبي کریم د نبوت دعوی او اسلامي تحریک د دغو خلقو په زړونو کښې د جنگي خبرونو سره یوه خاصه علاقه پیدا کړې وه. د فارس مجوسي آتش پرستانو د مکې معظمې له بت پرستانو سره یوه ځان ته علاقه او ارتباط درلود (لرلو) او هغوی به ئې د مذهب له مخې خپل بلل او د روم نصرانیانو به د اهل الکتب توب له امله (وجې) د مسلمانانو دیني ورونه یا لږ تر لږه د هغو د نژدې دوستانو په منزله گڼل کیدل کله چه به د فارسیانو د غلبې خبر راورسید نو د مکې معظمې مشرکانو به خوشالي کوله او په هغه سره به ئې د مسلمانانو په مقابل کښې په خپله غلبه او برې باندې فال نیوه او په خپلو زړونو کښې به ئې د ډیرو ښو توقعاتو امیدونه تړل مسلمانانو ته به هم بالطبع صدمه رسیدله چه ولې عیسائي اهل کتاب د آتش پرستو مجوسانو په مقابل کښې مغلوب شول؟ چه مونږ دلته د دغو مشرکانو د طعنو او پیغورونو مورد گرځیدلي یو بالاخر په سنه (۶۱۴) عیسوی کال څخه وروسته چه د نبوی له ولادت څخه په قمري حساب نژدې (۴۵) کاله او د نبوی بعثت څخه (۵) کاله تیر شوي وو، د خسرو پرویز (ثاني کیخسرو) په عهد کښې فارسیانو رومیانو ته ډیره سخته او مهلکه ماتې ورکړه شام مصر او وړوکي ایشیا او نور ډیر ممالک د روم د قیصر (هر قل) له لاسه ووتل او په خپله دی د فارس د لښکرو له لاسه په (قسطنطنیه) کښې کلابند او محصور شو، د رومیانو دارالسلطنت تر خطرې او تهدید لاندې راغی ډیر لوی لوی اسقفان او پادریان قید یا ووژل شول. له بیت المقدس ځنې د عیسائیانو ډیر لوی او مقدس صلیب د ایراني فاتحانو په لاس کښې ولوید د روم د قیصر اقتدار بیخي له منځه لاړ ظاهراً هیڅ یو داسې وسایل او وسائط په نظر نه راتلل چه د هغه په اثر به بیا رومیان په خپلو پښو دریدل او د فارسیانو د دغه برې او تسلط څخه به ئې خپل ځانونه بچ کول چه د دغو حالاتو او اوضاعو د لیدلو ځنې به د مکې معظمې مشرکان ډیر خوښ او خوشالیدل او مسلمانان به ئې ځورول او د دې برې په اساس به ئې نورې خبرې هم په خپلو زړونو کښې برابرولې. تر دې پورې چه ځینو له مشرکینو څخه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه ته وویل چه

«نن زمونږ ایرانی ورونو ستاسی رومی ورونو ته ماتی ورکړه او محوه ئی کړل سبا به مونږ تاسی ته هم داسی ماتی درکړو او له منځه به مو لری کړو» په دغه وخت کښی عظیم الشان قرآن د ظاهری اسبابو د سلسلی څخه بیخی مخالف داسی یو عام اعلان وکړ چه «بیشکه نن ورځ رومیان د فارسیانو له لاسه مغلوب شوی دی، لیکن د نهو کلونو په موده کښی به بیا رومیان په فارسیانو غالب، منصور او بریالی (کامیاب) کیږی» د دغو پخوا ویلو په اساس حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه له ځینو مشرکینو سره شرط وتړه تر دغه وخته پوری داسی شرط تړل نه و حرام شوی که «تر دومره کلونو پوری رومیان بریالی (کامیاب) نشول نو زه به سل اوښان تاسی ته درکړم که نه تاسی به هم دومره اوښان ماته راکوئ!» په ابتدا کښی حضرت ابوبکر له خپلی رائی سره سم د (بضع سنین) میعاد لږ څه تاکلی (مقرر کړی) ؤ، بیا ئی د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په ارشاد (بضع) په لغوی مدلول یعنی په نهو کلونو معاهده وتړله. دلته د روم هرقل د خپل له لاسه تللی اقتدار او وقار د اعادی په نسبت ترتیبات ونیول او په اقداماتو ئی لاس پوری کړ او داسی نذر ئی پر خپل ځان ومانه «که الله تعالیٰ ماته پر پارس بری راکړ نو له «حمص» څخه به پیاده «تر ایلیا» یعنی بیت المقدس پوری لاړ شم.» د الله تعالیٰ شان او قدرت ته وګورئ چه د قرآن له دغو پخوا ویلو سر سم برابر د نهو کلونو په موده کښی یعنی له هجرت څخه یو کال وروسته عیناً د بدر په ورځ کښی څه وخت چه مسلمانانو ته د پاک الله په فضل پر مشرکانو ښکاره فتح او بری حاصل شو او په خوشالی او خوښی کښی وو، د دغه خبر له اوریدلو څخه لا خوښ او خوشاله شول چه د روم کتابیانو ته هم الله تعالیٰ پر پارسی مجوسیانو بری او فتح ورکړه. په دغه ضمن کښی د مکی شریفی مشرکین لا سپک او ذلیل شول د عظیم الشان قرآن د دغه محیر العقول پخوا ویلو د صداقت له مخی ډیر کسان په اسلام مشرف شول او حضرت ابوبکر صدیق خپل هغه سل اوښان د مکی د مشرکانو څخه واخیستل چه د رسول الله له ارشاد سره سم خیرات کړل شول. فلله الحمد علیٰ نعمائه الظاهرة وآلائه الباهرة.

---

لِلَّهِ الْأَمْرُ مِن قَبْلُ وَمِن بَعْدُ ط

---

خاص الله ته دی حکم امر پخوا (له دی نه چه پارس په روم باندی بری ومومی) او وروسته (له دی نه چه روم پر پارس باندی غلبه ومومی او امر ئی تل نافذ دی)

---

**تفسیر:** یعنی ړومبی د پارسیانو غالبول او د رومیانو مغلوبول او بیا دغه اوضاع په بل مخ اړول دغه ګرد (تول) بلکه نور تول امور د الله تعالیٰ په قبضه او اختیار کښی دی او یوازی په هم دغومره خبری سره د کوم قوم د مقبولیت او مردودیت فیصله نشی کیدی ﴿ وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ ﴾

وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ ۝٤ بِنَصْرِ اللّٰهِ ۚ يَنْصُرُ مَنْ يَّشَاۤءُ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ۝٥

او په دغه ورځ (د غلبې د روم په پارس) خوشاله به شي مؤمنان په نصرت د الله (له کتابيانو سره په مجوسيانو) مرسته (مدد) کوي (الله) له هر هغه چا سره چه اراده وکړي د نصرت ئې او هم دی دی ښه غالب قوي (د احکامو په انفاذ) ډير رحم والا

**تفسير:** يو خو په دغه ورځ د فتح په خوښي برسيره هغوی ته دغه خوښي هم حاصله شوه چه رومي کتابيان چه نسبتاً مسلمانانو ته نژدې وو په پارسي مجوسيانو غالب شول او د قرآن د دغو پخوا ويلو په صداقت باندې ګرد (تول) سره وپوهيدل او د سر په سترګو ئې وليدل. او د مکې شريفې کفارو ته هر راز (قسم) ذلت ور په برخه شو. نو د هر چا په نسبت چه الله تعالیٰ اراده وکړي چه مغلوب ئې وګرځوي نو هيڅوک ئې مخه نشي نيولی او پر هر چا چه د مهرباني اراده وکړي نو ئې بې له هيڅ مزاحمت او ممانعت ضرور غالب ګرځوي.

وَعْدَ اللّٰهِ ۚ لَا يُخْلِفُ اللّٰهُ وَعْدَهٗ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝٦

وعده کړې ده الله (وعده کول) خلاف نه کوي الله له وعدې خپلې وليکن زياتره خلق نه پوهيږي (په دې چه د الله په وعده کښې خلاف نشته)

**تفسير:** يعني زياتره خلق نه پوهيږي چه په غالبولو او مغلوبولو کښې د الله تعالیٰ څه څه حکمتونه شته او کله چه دی د قدرت کوم کار کول غواړي نو د هغه له مخه ګرد (تول) ظاهري موانع او عوايق لرې کيږي نو ځکه زياتري ظاهر ليدونکي خلق بې له ظاهري اسبابو په الله تعالیٰ اعتماد نه لري او د يو چا د عارضي برې او غلبې له ليدلو څخه داسې ګڼي چه د الله تعالیٰ په دربار کښې به هم هغه مقبول وي.

يَعْلَمُوْنَ ظَاهِرًا مِّنَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۖ وَهُمْ عَنِ الْاٰخِرَةِ هُمْ غٰفِلُوْنَ ۝٧

(بلکه) پوهیږی په ښکاره سطحی شیانو له دغه ژوندون لږ «(خسیس)» د دنیا څخه حال دا چه دوی له آخرت نه (چه مقصود له ودانی د دی دنیا دی) هم دوی غافلان دی.

---

**تفسیر:** یعنی دغه خلق د دنیوی ژوندون په ظاهری سطح باندی پوهیږی د دی دنیا آرام، خایست، سینګار، خوړل، څښل، اغوستل، یوی کول، کرل، ریبل، ګټی کول، په خوندو او مزو سره ژوندون او ښی شپی ورځی تیرول د دوی د پوهی او تحقیق انتهائی ځای او پړاو دی او له دی نه له سره نه دی خبر چه پر دغه فانی ژوندون پوری د بل یو باقی ژوندون سلسله هم تړلی ده چه کله انسان هلته وروړسیږی نو د دغه ژوندون ښه او بد نتائج او ثمری ور د مخه کیږی او دغه خبره ضروری نه ده کوم سړی چه په دغه دنیا کښی خوښ او خوشاله اوسیږی هلته دی هم خوښ او خوشال وی. آخر د آخرت معامله خو لری ده هم دلته وګورئ چه یو شخص یا یو قوم کله کله په دنیا کښی لوړ (اوچت) مقام ته رسیږی لیکن د هغه آخری انجام او خاتمه پرته (علاوه) له ذلت او ناکامی څخه بل شی نه وی.

---

أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا فِىٓ أَنفُسِهِم ۗ مَّا خَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ إِلَّا بِٱلْحَقِّ وَأَجَلٍ مُّسَمًّى ۗ

---

آیا فکر نه کوی دوی په نفسونو خپلو کښی (چه عالم صغیر دی) چه نه دی پیدا کړی الله دغه اسمانونه او ځمکه او هر هغه چه په منځ د دغو دواړو کښی دی مګر په حقه سره او په نیتی تاکلی (مقرر کړی) شوی

---

**تفسیر:** یعنی د دنیا دغه زبردست انتظام خوشی چتی (فضول) او بیکاره نه دی دغه پیدایښت ضرور څه مقصود او غرض لری چه هغه به په آخرت کښی څرګندیږی (ښکاره کیږی). هو که دغه سلسله تل تر تله هم داسی چلیدی نو بیا به یوه خبره وی، لیکن د دی دنیا په تغیراتو او احوالو کښی له فکر او غور کولو څخه دغه راڅرګندیږی چه دغه دنیا هم ضرور یو حد او انتها لری لهٰذا په یوی تاکلی (مقرر کړی) وعدی به دغه دنیا فنا کیږی او یوه بله دنیا به د دی دنیا د نتیجی په شان منځ ته راشی.

---

وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلنَّاسِ بِلِقَآئِ رَبِّهِمْ لَكَٰفِرُونَ ﴿٨﴾

او بیشکه چه ډیر له خلقو (کفارو) په ملاقات د رب خپل (په قیامت کښې) خامخا منکران دي

**تفسیر:** دوی داسې ګڼي چه له سره الله تعالیٰ ته ورتګ نشته او نه به الله تعالیٰ له مونږ څخه څه حساب او کتاب اخلي او نه به څه سوال او ځواب راځخه کوي.

أَوَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ كَانُوا أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَأَثَارُوا الْأَرْضَ وَعَمَرُوهَا أَكْثَرَ مِمَّا عَمَرُوهَا وَجَاءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ ۖ فَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَٰكِن كَانُوا أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٩﴾

آیا نه ګرځي دغه کفار په ځمکه کښې پس ودې ګوري دا چه څرنګه وه آخره خاتمه د هغو (کسانو) چه تیر شوي دي پخوا له دوی نه، چه وو هغه پخواني ملتونه ډیر سخت له دغو کفارو له جهته د قوت او څیرولې به دوی ځمکه (د اوبو، معادنو، کښتونو (فصلونو) او نورو دپاره) او ودانه کړې وه (کفارو پخوانيو) دغه ځمکه ډیره له هغې ځمکې نه چه ودانه کړې ده (د مکې کفارو) دغه (ځمکه) او راغلي وو دوی ته رسولان د دوی په ښکاره ؤ دلائلو (د قدرت او معجزو) او نه ؤ الله چه ظلم وکړي په دوی باندې ولیکن وو دوی چه پر نفسونو خپلو به ئې ظلم کاوه (د انبیاؤ په تکذیب سره)

**تفسیر:** یعنې ډیر زورور زورور قومونه مثلاً عاد او ثمود چه پخپل کښت (فصل) او کر او زیار (محنت) او زحمت ئې د ځمکې مخ ډیر ښه ودان، سمسور او تک شین کړی ؤ، او پکښې ئې کاریزونه، ویالې، کوهی کانونه (درنګونه) او نور ایستلي وو او د دغو منکرینو په نسبت د ډیر عظمت، قوت او شوکت خاوندان وو. او تهذیب او تمدن ته ئې زیاته تقویه او ترقي ورکړې وه او ډیر اوږده عمرونه به ئې کول او د ځمکې مخ ئې له دوی نه زیات ودان کړی ؤ بالاخر هغوی نن ورځ چیرې دي ؟ کله چه د الله تعالیٰ رسولان له ښکاره ؤ معجزاتو او روښانو احکامو سره راغلل او دوی د هغوی تکذیب وکړ. نو آیا تاسو ونه لیدل او وا مو نه وریدل چه د هغوی عاقبت او آخره خاتمه څرنګه شوه ؟ او په څه شان سره تباه او هلاک وګرځیدل ؟ د دوی ویجاړې مینې کنډوالې اوس هم هر سیاح او مسافر او د هغو له شاؤ خواؤ څخه هر تیریدونکی لیدلی او تری

پند او عبرت اخیستی شي نو آیا دغه بې‌فکران له دی نه څه پند او عبرت نه اخلي؟. ﴿ وَمَا كَانَ اللهُ لِيَظْلِمَهُمْ ﴾ او نه ؤ الله چه ظلم وکړی په دوی ولیکن ؤ دوی چه پر نفسونو خپلو به ئی ظلم کاوه په تکذیب د انبیاؤ سره) د الله تعالیٰ په دربار کښې خو د ظلم امکان له سره نشته هو! دغه خلق پخپلو لاسونو خپل بیخ په تبر سره وهی او د داسې اعمالو او افعالو مرتکب کیږی چه د هغوی نتیجه پرته (علاوه) له تباهی او بربادی بل کوم شي نه دی. نو په دغه تقدیر سره دوی پر خپلو ځانونو پخپله ظلم کوی. که نه د الله تعالیٰ د عدل او رحم کیفیت خو داسې دی چه بې د رسولانو له لیږلو او بې له پوره پوهولو او هوښیارولو هیڅ څوک نه نیسي.

---

ثُمَّ كَانَ عَاقِبَةَ الَّذِينَ أَسَاءُوا السُّوأَىٰ أَنْ كَذَّبُوا
بِآيَاتِ اللَّهِ وَكَانُوا بِهَا يَسْتَهْزِئُونَ ﴿١٠﴾ ع

---

بیا وه آخره خاتمه د هغو کسانو چه بد ئی کړی ؤ ډیر بد (ځای چه جهنم دی) په دی سبب چه تکذیب کړی دی دوی د آیتونو د الله او وو دوی (په دنیا کښې چه) په دغو آیتونو به ئی مسخری کولی

---

**تفسیر:** دغه نتیجه خو ئی په دنیا کښې لیدلی وه لیکن د تکذیب او استهزاء هغه سزاء چه دوی ته ورو‌سته له دی نه په آخرت کښې رسیدونکی ده هغه خو بیله ده. موجوده‌ؤ اقوامو ته لازم دی چه د تیرو اقوامو له احوالو څخه پند او عبرت واخلي. ځکه هر یوه قوم چه پر کوم بد کار سزا موندلی وه بل ته په هم هغه بد کار باندی هم هغسی سزا ورکول کیږی د تولو اقوامو فناء هم لکه د هم دغه یوه قوم فناء وګنئ! او د ګردو (تولو) سزا هم لکه هم هغه سزا قیاس کړئ!.

---

اللَّهُ يَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿١١﴾ وَيَوْمَ
تَقُومُ السَّاعَةُ يُبْلِسُ الْمُجْرِمُونَ ﴿١٢﴾ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ
مِنْ شُرَكَائِهِمْ شُفَعَاءُ وَكَانُوا بِشُرَكَائِهِمْ كَافِرِينَ ﴿١٣﴾

---

الله اول ځلی پیدا کوی خلق (انسان له نطفی) بیا اعاده کوی هغه بیا به خاص هم دغه (الله) ته بیول کیږئ تاسی (د مجازاتو له پاره) او په هغه ورځ چه قائم شي قیامت نا امیده (زړه ماتی) به شي ګنهکاران (مشرکان). او نه به

وی دوی ته له شریکانو د دوی څخه کوم شفاعت کوونکی او شی به دوی له شریکانو خپلو (پس له ناامیدی) بیزاره منکران.

**تفسیر:** یعنی هغه شیان چه د الله تعالیٰ شریکان گرځوئ کله چه په مطلوب وخت کښی په کار ورنشی نو ورڅخه منکریږی او داسی به وائی ﴿ وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ ﴾ قسم دی په الله چه مونږ مشرکان نه ؤ».

وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَتَفَرَّقُونَ ﴿۱۴﴾

او په هغه ورځ چه ودریږی قیامت په دغه ورځ کښی تار په تار خپاره (خواره) به شی گرد (تول) مخلوقات (په دی شان سره)

**تفسیر:** یعنی نیک او بد او هر قسم خلق به سره بیل کړل شی. او هره یوه ډله به جلا جلا (جداجدا) خپلو ځایونو ته ورسوله شی چه تفصیل ئی په دغه راتلونکی آیت کښی راځی

فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَهُمْ فِي رَوْضَةٍ يُحْبَرُونَ ﴿۱۵﴾

پس هر څه هغه (کسان) چه ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه) پس دوی به په روضه (د جنت) کښی خوشاله کړل شی (چه له ډیری خوشالی به ئی مخونه تجلی کوی)

**تفسیر:** یعنی په انعام او اکرام سره به پری رحمت وکړ شی. او له هر راز (قسم) لذت او خوښی ځنی به مستفید او متمتع شی دغه د نیکانو د هستوگنی ځای دی. له دی نه وروسته د بدانو ځای هم راښیی، مطلب ئی دا چه د دواړو په منځ کښی به داسی تفریق او بیلتون وکړ شی چه له هغه ځنی به بل زیات کوم بیلتون امکان ونه لری.

وَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَلِقَاءِ الْآخِرَةِ فَأُولَٰئِكَ فِي الْعَذَابِ
مُحْضَرُونَ ﴿۱۶﴾ فَسُبْحَانَ اللَّهِ حِينَ تُمْسُونَ وَحِينَ تُصْبِحُونَ ﴿۱۷﴾ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي
السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَعَشِيًّا وَحِينَ تُظْهِرُونَ ﴿۱۸﴾

او هر څه هغه کسان چه کافران شوی دی او دروغجن ئی شمیرلی دی آیتونه (د قرآن) زمونږ او (کافران دی) په ملاقات د آخرت پس دغه کسان په عذاب کښی حاضر کړی شوی دی. پس (تسبیح ووایئ د الله) تسبیح د الله کله چه داخل شئ په بیګا (ماښام) کښی او کله چه ننوځئ په سبا کښی او خاص هم ده ته د تولو ثناء صفت په آسمانونو کښی او په ځمکه کښی او کله چه ننوځئ په آخر د ورځی کښی او کله چه ننوځئ په (وخت د) مازپښین کښی

**تفسیر:** یعنی که جنت غواړئ نو الله تعالیٰ یاد کړئ چه د هغه یاد په زړونو، ژبه، اعضاؤ او تولو جوارحو سره کیږی په لمانځه کښی د دریو واړو ډولو (طریقو) یاد سره جمع کړی شوی دی او د فرض لمانځه وختونه هم دغه دی چه په دغه آیت کښی بیان شوی دی یعنی سبا او ماښام چه مغرب او عشاء پکښی شامل دی د ورځی وروستی وخت مازیګر او مازپښین کله چه لمر له نصف النهاره واوړی چه هم دغه پنځه واړه وختونه د لمانځه دی په دغو وختونو کښی د الله تعالیٰ د رحمت یا قدرت یا عظمت آثار لا زیات ښکاره او ظاهریږی. لمر د اجسامو په عالم کښی له ګردو (تولو) ځنی لویه او روښانه کره ده چه بالواسطه یا بلاواسطه د ده له فیض او تاثیر څخه به د اسبابو په عالم کښی ښائی هیڅ یو مادی مخلوق مستثنیٰ نه وی. لکه چه د «ارض النجوم» مصنف دغه موضوع په ډیره شرح او بسط سره ثابته کړی ده په هم دی بنا د ستوریو عابدانو لمر خپل لوی معبود ګرځولی ؤ چه د هم هغه په لوری د حضرت ابراهیم علیه السلام په دغه قول ﴿ هٰذَا رَبِّي هٰذَآ أَكْبَرُ ﴾ کښی اشاره ده د دوی د عجز او بیچارګئ او د لمر پرستانو له دغه لوی فیض ځنی د محرومی ښکاره مظاهره هم په هم دغو پنځو وختونو کښی کیږی. سهار څه وخت چه لا لمر نه وی راختلی او غرمه څه وخت چه لمر په زوال شروع کوی او د ده په عروج کښی کمی پیښیږی او مازدیګر کله چه د ده په حرارت او رڼا (رڼرا) کښی په ښکاره ډول (طریقه) سره ضعف واقع کیږی او له غروب څخه وروسته کله چه د ده نورانی وړانګو له اتصال څخه د ده عابدین په کلی ډول (طریقه) سره محرومیږی بیا د ماسخوتن په وخت کله چه شفق هم بیخی غائب شی او د رڼا (رڼرا) ډیر خفیف آثار هم په افق کښی باقی پاتی نشی په دغو وختونو کښی موحدینو ته حکم وشو چه د لوی خدای عبادت کوئ! او د لمانځه په ابتداء کښی په «الله اکبر» ویلو سره د هغه لوی موحد ابراهیم خلیل الله اقتدا کوئ چه هغه له «هذا ربی هذا اکبر» څخه وروسته ویلی وو ﴿ إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفًا وَمَآ أَنَا۠ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴾ جزء ۷ (د انعام (۹) رکوع) ۷۹ آیت ښائی په دغه آیت کښی ﴿ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضِ ﴾ ویلو سره ئی د دی مطلب یادونه کړی وی چه د تسبیح او تنزیه او یادولو لایق هم هغه جامع الصفات ذات کیدی شی چه د ده حمد «ثنا» او ښیګنی (فائدی) د

آسمانونو او ځمکې تول کائنات د حال او قال په ژبه بیانوی. بل کوم مجبور او عاجز مخلوق د دی خبری استحقاق نه لری که څه هم په نظر کښې دیر لوی او خورا (دیر) ستر هم ښکاره شی وروسته له دی نه د لوی خدای د ځینو عظیمه ؤ شئونو او کامله ؤ صفاتو بیان دی څو د معبودیت استحقاق په پوره دول (طریقه) ښکاره او څرګند شی په دغه ضمن کښې د بعث بعدالموت په مسئله هم کافی رڼا (رڼرا) اچولی شوی ده.

يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَيُحْيِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ وَكَذَٰلِكَ تُخْرَجُونَ ﴿١٩﴾

راویاسی (الله) ژوندی له مړی (لکه مرغه له هګۍ نه عالم له جاهل څخه) او راویاسی (الله) مړی له ژوندی (لکه جاهل له عالم څخه هګۍ له مرغه څخه) او ژوندی کوی ځمکه پس له مرګه (وچوالی) د هغی او په مثل (د راویستلو د دغو شیانو) راویستل کیږئ تاسی (له قبرونو نه)

تفسیر: یعنی انسان له نطفی څخه او نطفه له انسان څخه، مرغان له هګۍ څخه، هګۍ له مرغانو څخه، مؤمن له کافر څخه، کافر له مؤمن څخه پیدا کوی. او ځمکه څه وخت چه وچه کلکه او مړه شی نو د خپل رحمت په اوبو سره ئې ژوندی او سمسوره کوی. لنده دا چه موت او حیات حقیقی وی که مجازی، حسی وی که معنوی د دی تولو واک (قبضه) او اختیار د الله تعالیٰ د قدرت په لاس کښې دی. نو بیا ستاسی ژوندی کول او له قبرونو ځنې بیا راپاڅول د ده په نزد کوم سخت او مشکل کار نه دی بلکه الله تعالیٰ ته خورا (دیر) آسان دی.

وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَكُمْ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ إِذَا أَنْتُمْ بَشَرٌ تَنْتَشِرُونَ ﴿٢٠﴾

او یوه له نښو (د قدرت) د دغه (الله) دا ده چه پیدا ئې کړ (اصل د) تاسی له خاورو بیا اوس تاسی یئ بشر خوریږئ (په ځمکه کښې)

تفسیر: یعنی آدم علیه السلام ئې له خاورو څخه پیدا کړ. بیا د الله تعالیٰ دغه کامله قدرت او بالغه حکمت ته وګورئ چه د هغه اولاد ئې په څه اندازه دیر او تر کومې پیمانې ئې په ځمکه کښې خور کړ او له دغه خوریدلو نه وروسته ئې په څه اندازه عجیبې او غریبې هوښیاری د خاورو دی مجسمی وښودلی.

وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوْٓا اِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَّوَدَّةً وَّرَحْمَةً ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۱﴾

او (ځینی) له نښو (د قدرت) د دغه (الله) دا دی چه پیدا کړی ئی دی تاسی ته له نفسونو (ځانونو) ستاسی ښځی (جوړه) دپاره د دی چه مائل شئ دوی ته (او مطمئن اوسئ) او ګرځولی ئی ده په منځ ستاسی (او د ښځو کښی دوستی او مهربانی بیشکه په دغه (پیدا کولو د مودت او رحمت په منځ د ازواجو) کښی خامخا ډیری نښی د قدرت دی دپاره د (هغه) قوم چه فکر کوی (د الله په صنع کښی)

**تفسیر:** یعنی ړومبی ئی له خاورو څخه آدم علیه السلام پیدا کړ بیا ئی له آدم علیه السلام څخه د ده جوړه پیدا کړه څو له هغی څخه انس او اطمینان واخلی او په خلقی ډول (طریقه) ئی د دواړو صنفونو نارینه او ښځی په منځ کښی خاص قسم مینه او محبت او الفت واچوو څو د ازدواج اصلی مقصود تری حاصل شی. لکه چه د دغو دواړو د اختلاط او ګډ اوسیدلو څخه انسانی نسل په دنیا کښی خپور (خور) شو. لکه چه الله تعالیٰ د النساء د سورت په (۱) رکوع ۱ آیت کښی وائی ﴿ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيْرًا وَّنِسَآءً ﴾

وَمِنْ اٰيٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافُ اَلْسِنَتِكُمْ وَاَلْوَانِكُمْ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّلْعٰلِمِيْنَ ﴿۲۲﴾

او (ځینی) له نښو (د قدرت) د دغه (الله) پیدا کول د آسمانونو او (پیدا کول د) ځمکی او اختلاف دی د ژبو ستاسی او (بل اختلاف دی) د رنګونو ستاسی بیشکه په دغه (اختلاف کښی) خامخا ډیری نښی (د قدرت) دی دپاره د عالمانو پوهانو.

**تفسیر:** ګرد (ټول) انسانان ئی له یوه مور او پلار څخه پیدا او سره ئی مخلوط او میشته او د ځمکی په ټولو نقاطو کښی ئی خپاره (خواره) کړل، د هر یوه ژبه او وینا ئی سره بیله کړه. که د یوه مملکت سړی بل ملک ته ورشی د ژبی په اعتبار محض پردی او اجنبی ښکاری. بیا

وګوری چه د دنیا له شروع څخه تر نن ورځې پوری څومره بیشماره انسانان پیدا شوی دی مګر هیڅ یوه داسی جوړه انسانان نه پیدا کیږی چه د هغو شوندی، ژبی لهجه تلفظ، د تکلم طرز او نور خصائص سره یو شان وی. هم هغسی چه د هر انسان شکل او صورت او رنګ او نور سره جلا (جدا) او ممتاز دی غږ او شوندی او لهجه ئی هم بیخی سره بیل دی، هیڅ یو داسی دوه انسانان نه پیدا کیږی چه د دوی په غږ او رنګ، هیئت، وضعیت کښی کومه بیلوونکی علامه او نښه نه وی. د عالم له ابتداء څخه تر نن ورځې پوری نوی نوی صورتونه، او د وینا او تکلم نوی نوی حالات لیدل کیږی او سره له هغه د الله تعالیٰ خزانه هم هغسی ډکه پرته دی. په واقع کښی دغه د الله تعالیٰ لوی قدرت څخه څومره یوه لویه نښه ده. فتذکروا یااولی الالباب!

وَمِنۡ اٰيٰتِهٖ مَنَامُكُمۡ بِالَّيۡلِ وَالنَّهَارِ وَابۡتِغَآؤُكُمۡ مِّنۡ فَضۡلِهٖ ؕ

او (ځینی) له نښو (د کامل قدرت) د دغه (الله) خوب ستاسی دی په شپه کښی او په ورځ کښی او طلب ستاسی دی (په ورځ کښی) له فضله د الله

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب لیکی چه «د انسان دوه حالتونه سره بدلیږی. که ویده شی نو د تیږی ( ګټی) په شان بی هوشه او بیخبره پروت وی او که د رزق او روزی په تلاش لګیا شی نو په داسی پوهه او هوښیاری لګیاء کیږی چه د ده په شان بل هیڅوک هوښیار نه لیدل کیږی. په اصل کښی شپه د خوب دپاره ده او ورځ د روزی د تلاش لپاره مخصوصه ده نو ځکه په هم دغو دواړو وختونو کښی هم دغه دواړه کارونه اجرا کیږی»

اِنَّ فِیۡ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوۡمٍ يَّسۡمَعُوۡنَ ﴿۲۳﴾

بیشکه په دی (خوب او معیشت) کښی خامخا ډیری نښی (د قدرت) دی دپاره (د هغه) قوم چه اوری

**تفسیر:** یعنی څه چه اوری په یاد ئی ساتی لکه چه د ابن کثیر رحمة الله علیه په تفسیر کښی راغلی دی. حضرت شاه صاحب لیکی چه «د خپل خوب حالات نه وینی لیکن د نورو خلقو د ژبو څخه ئی اوری» (موضح) دغه د «یسمعون» د لفظ د اختیارولو نکته شوه.

وَمِنۡ اٰيٰتِهٖ يُرِيۡكُمُ الۡبَرۡقَ خَوۡفًا وَّطَمَعًا

او (ځینی) له نښو (د قدرت) د دغه (الله دا دی) چه ښیی تاسی ته بریښنا

دپاره د ویری (له تندر) او دپاره د امید د باران

**تفسیر:** د برق او د بریښنا د سخت بریښیدلو څخه خلق ویریږی او دغسی تصور کوی نه چه تندر راولویږی. یا باران له خپلی اندازی څخه زیات ونه وریږی چه د هغه له امله (وجی) جانی او مالی تلفات واقع نه شی او هیله (طمع) او امید هم ورته لری چه که دغه وریدل ګټور واقع شی نو ګرد (تول) دنیوی کارونه به ښه وچلیږی. هغه مسافران چه په دغو تورو تیارو کښی سفر کوی کله دغه د بریښنا بریښیدل ځان ته غنیمت ګنی چه تر ډیر لری پوری د هغی د رڼا (رڼرا) په اثر لار او نور شیان ورځرګندیږی، او کله کله دوی هم تری ویریږی.

وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَيُحْيِ بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٢٤﴾

او نازلوی (الله) له (طرفه) د آسمان څخه اوبه پس ژوندی کوی په دغو (اوبو) سره ځمکه وروسته له مرګ (وچوالی) د دی بیشکه چه په دغه (بریښنا او باران) کښی خامخا ډیری نښی (د قدرت) دی دپاره (د هغه) قوم چه عقل لری «او تدبر کوی په امورو کښی».

**تفسیر:** یعنی له دی نه وپوهیږئ، چه له مرګ څخه وروسته ستاسی بیا ژوندی کول کوم مشکل کار نه دی.

وَمِنْ آيَاتِهِ أَن تَقُومَ السَّمَآءُ وَالْأَرْضُ بِأَمْرِهِ ۚ ثُمَّ إِذَا دَعَاكُمْ دَعْوَةً مِّنَ الْأَرْضِ إِذَا أَنتُمْ تَخْرُجُونَ ﴿٢٥﴾

او (ځینی) له نښو (د قدرت) د دغه (الله دا دی) چه ولاړ دی آسمان (پاس بی له ستنو او نه لویږی) او ځمکه په امر حکم د الله سره بیا کله چه راوبولی تاسی په بللو سره له ځمکی څخه ناڅاپه تاسی راوزئ (ژوندی له قبرونو خپلو څخه)

**تفسیر:** ړومبی د ځمکی او آسمان د پیدا کولو ذکر وشو دلته ئی د هغو بقاء او قیام وښود چه

هغه هم د الله تعالیٰ په حکم سره دی او له سره امکان نه لری چه هیڅ یو له دوی نه د خپل ثقل د مرکز څخه بی ځایه شي یا یو په بل باندی ولویږی او د کائناتو نظام تار په تار او وران او ویجاړ کړی. یعنی ځمکه او آسمان به تر هغه پوری چه د الله تعالیٰ حکم وی قائم وی بیا څه وخت چه د ځمکی او د آسمان او د نورو موجوداتو میعاد پوره شي او سر ته ورسیږی د الله تعالیٰ د یوه غږ په اثر به تاسی ګرد (تول) له خپلو قبرونو څخه ژوندی راوځئ او د حشر میدان ته به منډی وهئ او هلته به سره تولیږئ.

وَلَهُۥ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ كُلٌّ لَّهُۥ قَٰنِتُونَ ﴿٢٦﴾

او خاص الله لره دی هر هغه چه په آسمانونو کښی دی او په ځمکه کښی دی (سره له آسمانونو او ځمکی خلقاً، ملکاً وعبیداً) دا تول دغه (الله) ته اطاعت کوونکی دی.

**تفسیر:** یعنی د آسمانونو او ځمکی تول اوسیدونکی د ده مخلوق، مملوک، بندګان او رعیت دی او هیڅوک له سره د دغی خبری قوت او طاقت نه لری چه د الله تعالیٰ د دغو تکوینی احکامو له قبول څخه غاړه وغړولی شي.

وَهُوَ ٱلَّذِى يَبْدَؤُا۟ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ وَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِ ۚ وَلَهُ ٱلْمَثَلُ ٱلْأَعْلَىٰ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٢٧﴾

او (الله) هم هغه (مطلق قادر) دی چه اول ځلی پیدا کوی خلق بیا به راژوندی کوی (دا خلق) او دغه (بیا ژوندی راپاڅول هم) ډیر آسان دی په دغه (الله) او خاص الله لره دی شان، صفت ډیر لوی، لوړ(اوچت) په آسمانونو کښی او په ځمکه کښی (له عقل او ادراک څخه پورته) او هم دی دی ښه غالب، قوی (د احکامو په انفاذ) ښه حکمت والا (چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی).

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ د قدرت په مقابل کښی تول سره برابر دی. لیکن ستاسی د محسوساتو په اعتبار د اول ځل پیدا کولو په نسبت د دوهم ځل اعاده خو ښائی چه ډیر سهل او آسان وی. نو بیا به دغه ډیره عجیبه خبره وی چه په اول ځل پیدایښت کښی تاسی الله تعالیٰ قادر منئ مګر په دوهم ځل کښی د الله تعالیٰ پیدایښت مستبعد ګڼئ؟

﴿ وَلَهُ الْمَثَلُ الْأَعْلَىٰ ﴾ الآية ـ او خاص الله تعالیٰ لره دی شان، صفت ډیر لوی لوړ (اوچت) په آسمانونو او ځمکه کښې الخ)

**تنبیه:** یعنی له اعلیٰ ځنی اعلیٰ صفات او له لوړ (اوچت) ځخه لوړ (اوچت) شان د الله تعالیٰ شان او صفتونه دی. په آسمان او ځمکه کښې هیڅ یو شی په خپل حسن او ښه والی کښې د الله تعالیٰ له شان سره برابر او مساوی لا څه بلکه ادنیٰ صفت او مشابهت ته ئی هم ځان نشی رسولی. الله تعالیٰ له ګردو (ټولو) هغو شیانو ځخه په جلال، جمال، کمال، مثال او نورو ممیزاتو (خصوصیاتو) کښې اولیٰ، اعلیٰ، ارفع او اقدس دی چه د مخلوقاتو په وهم او تصور کښې راتلی نشی. بلکه هر هغه حسن او ښه والی چه هر چیری لیدل کیږی او موجود وی هغه ټول د الله تعالیٰ د کمالاتو یوه ادنیٰ پلوشه ده.

حضرت شاه صاحب لیکی چه «آسمانی پرښتی نه څه خوری او نه څه څښی او نه بشری نورو حاجاتو ته څه اړتیا (احتیاج) او مجبوریت لری بی له عبادت ځخه بل څه مشغولیت نه لری او د ځمکی مخلوقات په ټولو شیانو ککړ دی خو سره له دی د الله تعالیٰ اصلی ثنا او صفت نه د هغو او نه د دوی له لاسه پوره دی، هغه خورا (ډیر) لوی او پاک ذات دی. «موضح».

ای برتر از خیال و قیاس وګمان و وهم
و زهر چه ګفته اندوشنید یم وخوانده ایم
منزل تمام ګشت وبه پایان رسید عمر
ما همچنان در اول وصف تو مانده ایم

خدای دی خیر ورکړی څه ښه ئی ویلی دی.

ای برون ازوهم وقال وقیل من
خاک بر فرق من و تمثیل من

ضَرَبَ لَكُم مَّثَلًا مِّنْ أَنفُسِكُمْ هَل لَّكُم مِّن مَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُم مِّن شُرَكَاءَ فِي مَا رَزَقْنَاكُمْ فَأَنتُمْ فِيهِ سَوَاءٌ تَخَافُونَهُمْ كَخِيفَتِكُمْ أَنفُسَكُمْ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٢٨﴾

بیانوی (الله) تاسی ته (ای مشرکانو) یو مثال له ځانونو ستاسی ځخه (هغه مثال دا دی) آیا شته تاسی ته (بلکه شته) له هغو مریانو چه مالکان شوی دی د هغو ښی لاسونه ستاسی څه شریکان (له تاسی سره) په هغه څه کښې چه درکړی دی مونږ تاسی ته پس تاسی (او دا مریان مو) په هغه (رزق) کښې

سره برابر یئ چه ویریږی له هغو لکه ویریدل ستاسی له نفسونو (د نورو اصیلانو شریکانو) خپلو به مثل د دغه (تفصیل) په تفصیل سره بیانوو مونږ آیتونه (د قدرت) دپاره (د هغه) قوم چه عقل لری (تدبر کوی).

**تفسیر:** یعنی د شرک په قباحت او بطلان د پوهولو له پاره الله تعالیٰ ستاسی له احوالو ځنی یو مثال راوړی او بیانوی، او هغه دا دی چه ستاسی د لاس مال (یعنی وینځه او مریی) چه تاسی د هغو ظاهری او مجازی مالکان او خاوندان یئ. په خپله هغه روزی او مال او متاع کښی چه الله تعالیٰ تاسی ته درکړی دی آیا هغوی له خپلو ځانونو سره مساوی او برابر منلی شئ ؟ لکه چه ستاسی په مشترکو مالونو جایدادونو او شتو کښی ستاسی ورونه او نور اقارب او خپلوان سره شریکان دی او تل داسی اندیښنه درسره وی نه چه په هغه مشترک مال کښی څه ناجائزه تصرف او مداخله ونه شی او که داسی کوم لاس وهنه په هغه کښی وشی نو تاسی تری متاثر او خپه کیږئ او د هغه په ویش او ترکه کولو پسی کیږئ. یا لږ تر لږه دغسی پوښتنه کوئ چه ولی زما د اجازی او خوښی څخه پرته (علاوه) هغه کار یا تصرف په دغه شی کښی شوی دی ؟ آیا کوم دغسی فکر کوم بادار ته د خپل مریی او خدمتګار په نسبت پیدا کیدی شی؟ او که نشی پیدا کیدی نو ښه وپوهیږئ څه وخت چه د یوه وړوکی مالک او بادار حال داسی دی نو هغه حقیقی او یقینی الله او مالک به د خپل بنده او غلام څه پروا کوی؟ چه تاسی له خپل حماقت، جهالت او ناپوهی نه هغه د ده شریک او ورسره مساوی ګرځولی دی. یو مرییٔ په هیڅ حال د خپل بادار په مال او اسباب کښی شریک کیدی نشی حال دا چه دغه دواړه د الله تعالیٰ مخلوق دی او د ده له ورکړی شوی روزی څخه خوری مګر یو مخلوق بلکه د مخلوق مصنوع به څرنګه د الله تعالیٰ په الوهیت کښی شریک کیدی شی؟ او داسی یوه مهمله خبره یو عقلمن سړی له سره نشی منلی؟.

بَلِ اتَّبَعَ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَهْوَاءَهُم بِغَيْرِ عِلْمٍ ۖ فَمَن يَهْدِي مَنْ أَضَلَّ اللَّهُ ۖ وَمَا لَهُم مِّن نَّاصِرِينَ ﴿٢٩﴾

بلکه متابعت کوی هغه کسان چه ظلم ئی کړی دی (په شریک نیولو له الله سره) د آرزوګانو خپلو بی له علم (او حجت) څخه پس څوک به سمه صافه لاره وښیی هغه چاته چه ګمراه کړی وی (دی) الله (بلکه هادی نه لری) او نشته دوی لپاره هیڅوک له مرسته (مدد) کوونکو (چه خلاص ئی کړی له عذاب نه)

**تفسیر:** یعنی دغه بی انصافه خلق به په داسی ښکاره‌ؤ او څرګندو خبرو څرنګه وپوهیږی حال دا

چه هغوی له سره نه غواړی چه ځان پری وپوهوی بلکه د جهالت او هواپرستی له سببه محض د اوهامو او نفسی غوښتنو په متابعت او پیروی کښې مشغول او لګیا دی.

﴿فَمَنْ يَهْدِيْ﴾ الآية ـ پس څوک به سمه صافه لاره وښیی هغه چاته چه ګمراه کړی وی دی الله بلکه، هادی نه لری)

**تنبیه:** یعنی هر هغه چاته چه الله تعالیٰ د ده د بی‌انصافی، جهل، او هواپرستی په سبب د حقی لاری تللو او پوهیدلو توفیق ور نه کړی نو څوک به د دغی خبری طاقت او توان ولری چه هغه پوه کړی او سمه لار ور وښیی؟ یا ورسره مرسته (مدد) او معاونت وکړی ؟ یا ئی له ګمراهی او تباهی څخنی وژغوری (وساتی)؟ نو د داسی خلقو له طرفه زیات مه متحسر او مه خپه کیږه! او له دوی څخنی قطع نظر وکړه او بیخی الله تعالیٰ ته متوجه اوسه! او په خپل فطری دین تینګ اوسه!

---

فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا ۚ فِطْرَتَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا ۚ لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿۳۰﴾ مُنِيبِينَ إِلَيْهِ وَاتَّقُوهُ وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿۳۱﴾ مِنَ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا شِيَعًا ۖ كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ ﴿۳۲﴾

---

پس برابر کړه (ای محمده!) مخ خپل دین ته په داسی حال چه مایل اوسی حق ته لازم ونیسئ پیدایښت د الله هغه چه پیدا کړی دی (الله) خلق په هغه (پیدایښت) چه نشته له سره بدلول پیدایښت (دین) د الله ته (او مه ئی بدلوئ چه شریک ورسره پیدا کړئ) دا هم هغه دین سم دی (چه هیڅ کوږوالی په هغه کښې نشته) ولیکن زیاتره خلق نه پوهیږی (په توحید د الله) حال دا چه رجوع کوونکی یئ دغه (الله) ته او ویریږئ له (عذابه د) الله او قائموئ (سم دروئ سره له تولو حقوقو) لمونځ او مه کیږئ تاسی له مشرکانو (یعنی) له هغو (مشرکانو) چه تار په تار کړی ئی دی دین خپل او شوی وو دوی ډلی ډلی هر یوه ډله (چه ده له دوی نه) په هغه(دین) چه له دوی سره دی خوشاله دی.

---

**تفسیر:** یعنی هر هغه څوک چه له ګمراهی څخنی په هیڅ یو شان سره نه غواړی چه ووځی نو هغه پریږده چه د هم دغه کفر او شرک په ختو کښې نښتی پروت وی او ته له دوی نه مخ وګرځوه! او یوازی له الله تعالیٰ سره خپل تعلقات تینګ وساته! او یوازی د هغه حق دین په پوره توجه

تینګ ونسیه!

﴿ فِطۡرَتَ ٱللَّهِ ﴾ لازم ونیسئ تاسی پیدایښت د الله تعالیٰ هغه چه پیدا کړی دی الله تعالیٰ خلق په هغه پیدایښت الله تعالیٰ د انسان فطرت او جوړښت په ابتداء کښی داسی ګرځولی دی که دی وغواړی چه په حق ځان پوه کړی او وئی منی نو ځان ورباندی پوهولی او منلی شی ځکه چه د فطرت له ابتداء ځخه ئی د خپل اجمالی معرفت یوه سپرغی د ده په زړه کښی د هدایت د تخم په شان شندلی (کرلی) ده که د اطرافو او شاو خوا د خرابو اثراتو ځخه متاثر نشی او په خپل اصلی طبیعت پریښودل شی نو یقیناً به حق دین اختیار کړی او بل طرف ته به متوجه نشی. د «ألست» د عهد قصه هم دغه طرف ته اشاره کوی او په صحیحو احادیثو کښی تصریح ده چه «هر مولود په فطرت د (اسلام) پیدا کیږی، وروسته مور او پلار ئی دی یهودی یا نصرانی یا مجوسی ګرځوی» په یوه قدسی حدیث کښی راغلی دی «ما خپل بندګان (حنفاء) پیدا کړی دی بیا شیطانانو دوی اغواء او له سمی لیاری ایستلی دی» په هر حال حق دین، حنیف دین، قیم دین هغه دین دی چه که انسان په خپل اصلی فطرت پریښودلی شی نو بالطبع هغه ته متمایل کیږی. د تولو انسانانو فطرت الله تعالیٰ هم داسی پیدا کړی دی چه په هغه کښی له سره تفاوت او تبدیل نشته. فرض ئی کړئ که د فرعون یا ابوجهل په اصلی فطرت کښی دغه استعداد او صلاحیت موجود نه وی نو دوی ته د حق د منلو دعوت او د دوی مکلف ګرځول صحیح او درست نه وو لکه چه خښتی، تیږی (ګتی)، ونی خاوری، شګی، حیوانات او نور موجودات په شرائعو سره نه دی مکلف شوی د انسانی فطرت د دغه مساوات دغه اثر دی چه د دین ډیر منلی اصول او مهم اساس نور ګرد (تول) انسانان هم په یوه نه یوه رنګ منی اګر که په هغه باندی په ښه ډول (طریقه) قایم او تینګ هم نه وی ولاړ.

حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «یعنی الله تعالیٰ د تولو مالک حاکم او له ګردو (تولو) ځنی لوی، پورته او اقدس دی او هیڅوک له هغه سره نه دی برابر، د هیچا زور په ده نه رسیږی په دغو خبرو باندی ګرد (تول) خلق پوهیږی نو د هغه په لاره تګ په کار دی، هم داسی یوه انسان ته جانی یا مالی ضرر رسول، په نامه او ناموس ئی عیب لګول، هر څوک بد ګڼی. هم دغسی د الله تعالیٰ یادول، په فقیرانو او مساکینو زړه سوی او شفقت لرل، د حقوقو پوره اداء کول، تګی، چم، فریب نه کول، هر یوه انسان ته ښه ښکاری او په ښه نظر ئی ګوری په دغه لیاره تلل هم دغه حق دین دی او هم دغه ته فطری امور وائی مګر د دغه شیانو د اجرا کولو ډول (طریقه) الله تعالیٰ د خپلو انبیاؤ په ژبه خلقو ته ښوولی دی.»

﴿ لَا تَبۡدِيلَ لِخَلۡقِ ٱللَّهِ ﴾ نشته له سره بدلول پیدایښت دین د الله ته او مه ئی بدلوئ چه شریک ورسره پیدا کړئ) یعنی د اصلی پیدایښت په اعتبار هیڅ یو فرق او تغئیر او تبدیل پکښی نشته د هر انسانی فرد فطرت د حق د قبول لپاره صالح او مستعد ګرځولی شوی دی، یا ئی دا مطلب په هر هغه فطرت چه الله تعالیٰ خپل مخلوق پیدا کړی دی تاسی په خپل واک (قبضه) او اختیار هغه مه بدلوئ! او مه ئی خرابوئ! هغه تخم او استعداد چه په تاسی کښی کرلی شوی دی

هغه په خپلې بې توجې یا بې تمیزۍ مه خرابوئ!
﴿ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ﴾ دا هم هغه دین سم دی چه هیڅ کوږوالی پر هغه کښې نشته ولیکن زیاتره خلق نه پوهیږی په توحید د الله تعالیٰ) یعنی سمه لاره او حق دین هم دغه د فطرت غږ دی، خو زیاتره خلق په دغه نکته نه پوهیږی.
﴿مُنِيْبِيْنَ اِلَيْهِ﴾ حال دا چه تاسی رجوع کوونکی یئ دغه الله ته) یعنی اصلی دین ټینګ ونیسئ! او د هم هغه په طرف توبه او رجوع وکړئ! که محض د دنیوی مصلحت لپاره مو دغه کار وکړ نو دین به مو درست نه وی.
وروسته له دی نه د فطرت د دین مهمو اصولو ته پام ګرځولی شوی دی مثلاً اتقاء (له الله تعالیٰ څخه ویریدل) د لمانځه سم درول، د خفی او جلی شرک څخه بیزاری او د مشرکانو له عقائدو څخه اجتناب او په دین کښې نفاق، تفرقه نه غورځول.
﴿مِنَ الَّذِيْنَ فَرَّقُوْا دِيْنَهُمْ﴾ له هغو مشرکانو چه تار په تار کړی ئی دی دین خپل او شوی وو دوی ډلې ډلې هر یوه ډله چه ده له دوی نه په هغه دین چه له دوی څخه دی خوشاله دی) یعنی د دین الفطرت له اصولو څخه بیل پاتی شوی دی او په خپلو ادیانو او مذاهبو کښې ئی نفاق او تفرقه غورځولی ده، ډیری فرقی ئی سره جوړی کړی دی، د هری یوی عقیده، مذهب، مشرب او مسلک سره بیل او جلا (جدا) دی، هر هغه چه په غلطه یا په هوا او هوس ئی کومه عقیده قائمه کړه یا کومه طریقه ئی ایجاد کړه نو یوه ټولنه په هغی پسی شوه، لږ څه موده وروسته له هغی څخه ډیری فرقی جوړی شوی بیا هره یوه فرقه په خپلو هم هغو تاکلو اصولو او عقایدو که څه هم هغه ډیر چټی (بیکاره) او مهمل هم وی، داسی مین ګرځیدلی دی چه د خپلی غلطی د امکان تصور ئی هم په ماغزو کښې نه ګرځی.

وَاِذَا مَسَّ النَّاسَ ضُرٌّ دَعَوْا رَبَّهُمْ مُّنِيْبِيْنَ اِلَيْهِ ثُمَّ اِذَآ اَذَاقَهُمْ مِّنْهُ رَحْمَةً اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُوْنَ ﴿۳۳﴾ لِيَكْفُرُوْا بِمَآ اٰتَيْنٰهُمْ فَتَمَتَّعُوْا فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿۳۴﴾

او کله چه ورسیږی خلقو ته څه ضرر نو بولی دوی رب خپل په داسی حال کښې چه رجوع کوونکی وی خاص الله ته بیا کله چه وڅکوی (الله) دوی ته له خپله طرفه کوم رحمت (مهربانی) ناڅاپه یوه ډله له دوی نه له رب خپل سره شریکان نیسی دپاره د دی چه ناشکری وکړی (او کافر شی) په هغو (نعمتونو) چه ورکړی دی مونږ دوی ته پس ګټه (فائده) اخلئ (ای کفارو څو ورځی) پس ژر به معلوم کړئ تاسی (عاقبت د عمل خپل)

**تفسیر:** یعنی څرنګه چه د هر انسان فطرت په ښو کارونو باندی پوهیږی هم دا راز (قسم) د هر انسان فطرت الله تعالیٰ ته په رجوع کولو هم پوهیږی لکه چه دا حقیقت د خوف او سختی په وخت کښی څرګندیږی (ښکاره کیږی) ډیر لوی کبرجن او سرکش انسان هم د مصیبت او غم په وخت کښی بی اختیاره الله تعالیٰ ته رجوع کوی او د ده په دربار کښی په دعا او زاری شروع کوی او په دغه وخت کښی ئی نور وړوکی وسایل او د دروغو وسائط له فکره وځی او هم هغه واقعی او حقیقی مالک الملک ئی په یاد پاتی کیږی چه د هغه په طرف انسانی فطرت لارښوونه کوی مګر افسوس چه انسان په دغه حالت تر ډیری مودی پوری قایم نه پاتی کیږی څه وخت چه د الله تعالیٰ په لطف او مهربانی مصیبت ورځخه لری شی بیا له الله تعالیٰ څخه غافلیږی او د هم هغو باطلو معبودانو په ستاینو (صفتونو) لګیا کیږی. ګواکی دوی د خپل دغه وضعیت څخه داسی څرګندوی (ښکاره کوی) چه دغه شی د هم دغو عطا او ورکړه ده او الله تعالیٰ هیڅ شی مونږ ته نه دی راکړی (العیاذ بالله) ښه دی دوی دی څو ورځی خوښ اوسی او مزی دی کوی، وروسته به معلومیږی چه د دغه کفر او ناشکری نتیجه څه کیږی؟ که انسانیت وی نو دی به پوهیدی چه هغه لوی ذات ته چه د ده ضمیر د سختی او مصیبت په وخت کښی ناری کولی هم هغه د دی خبری وړ (مستحق) او لایق دی چه تل ئی په یاد ولریځ.

أَمْ أَنزَلْنَا عَلَيْهِمْ سُلْطَٰنًا فَهُوَ يَتَكَلَّمُ بِمَا كَانُوا۟ بِهِۦ يُشْرِكُونَ ﴿٣٥﴾

آیا نازل کړی دی مونږ په دوی کوم برهان علمی سند پس هغه خبری کوی په هغه چه وو دوی په هغه سره شریک پیدا کوی (له الله سره دوی بلکه نه مو دی نازل کړی)

**تفسیر:** یعنی د سلیم عقل او انسانی فطرت شهادت په صاف ډول (طریقه) سره د شرک او کفر تردید کوی نو آیا دوی د هغه په خلاف کوم برهان، حجت او علمی سند لری؟ چه دغه راوښیی چه د الله تعالیٰ په الوهیت کښی بل څوک هم د هغه شریک دی (معاذالله) کله چه هیڅوک نشته نو د هغه د معبود ګرځولو استحقاق له کومه شو ؟

وَإِذَآ أَذَقْنَا ٱلنَّاسَ رَحْمَةً فَرِحُوا۟ بِهَا ۖ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ إِذَا هُمْ يَقْنَطُونَ ﴿٣٦﴾

او کله چه وڅکوو مونږ په خلقو څه رحمت (مهربانی) نو خوشاله شی دوی په

هغه او كه ورسيږي هغوی ته څه سختي په سبب د هغو (اعمالو) چه پخوا ليږلي دي لاسونو د دوی ناڅاپه به بيا دوی نااميده شي (د الله له رحمت څخه)

**تفسير:** يعني د دغو خلقو عجيب حالت دی. كله چه د الله تعالیٰ له رحمت مهرباني او احسان په عيش او عشرت كښې له خوښي او خوشالي په خپلو كاليو (جامو) كښې نه ځائيږي او داسي ناز او نخري او كبر او غرور كوي چه خپل حد او اندازه نه پيژني او خپل حقيقي محسن بيخي هيروی او كه كوم وخت د خپلو اعمالو له شامته په كوم غم يا مصيبت كښې اخته شي نو بيخي نااميده او مايوس شي او داسي ګڼي چه اوس داسي څوک نشته چه دغه مصيبت زما له سره لری كړي او زما په امداد قادر وي. د مومن حال د ده په عكس دی. مومن په عيش، عشرت او راحت او نعمت كښې هم تل خپل حقيقي منعم يادوي د الله تعالیٰ له فضل او مرحمت څخه خوښي كوي او په زړه او ژبه او عمل سره د الله تعالیٰ حمد او شكر اداء كوي. كه په كوم غم او مصيبت كښې مبتلا شي نو هغه په خورا (ډير) صبر، تحمل سره ګالي (برداشت كوي) او له پاک الله څخني په هغه كښې خپل ځان ته مرسته (مدد) او توفيق غواړي او تل دغسي هيله (طمع) او اميد په خپل زړه كښې پالي چه څومره لوی او سخت مصيبت هم چه وي او په هره اندازه سره چه ظاهري اسباب او وسايل هم مخالف وي په يقيني ډول (طريقه) د الله تعالیٰ فضل او كرم دغه ګرد (ټول) سره په بل مخ اړولی شي او دغه مكدره فضاء په يوی منوري هوا سره بدلولی شي.
**تنبيه:** يو آيت ئي پخوا له دی نه ويلی ؤ چه «خلق د تنګسي او سختي په وخت كښې خالص د الله تعالیٰ په دربار كښې د عرض او نياز غږ او آواز كوي» دلته ئي دغه وويل چه «د سختي او بدی د رسيدلو په وخت كښې دوی بی هيلي او نااميده كيږي» په دغو دواړو كښې هيڅ اختلاف سره نشته. ړومبنی حالت يعني د الله تعالیٰ بلل ابتدائي منزل دی بيا كله چه سختي او مصيبت اوږديږي او امتداد مومي نو بالاخره وارخطا او بی‌هيلي او نااميده كيږي يا به د ځينو خلقو احوال هغسي وي او د ځينو احوال به داسي وي. والله تعالیٰ اعلم.

اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۳۷﴾

آيا نه ويني (نه دی خبر) دوی چه بيشكه الله پراخوی رزق هر هغه چاته چه اراده وكړي او تنګوی ئي (هغه چاته چه وئي غواړي) بيشكه په دغه (بسط او قبض) كښې خامخا دلائل (د قدرت) دي دپاره د (هغه) قوم چه ايمان راوړي.

**تفسیر:** یعنی کامل ایمان او یقین لرونکی پوهیږی چه د دنیا سختی او نرمی او د روزی زیات والی او کموالی او نور گرد (ټول) شیان د پاک الله او د قادر خدای د قدرت په لاس کښی دی. نو هر هغه وضعیت او احوال چه وربانډی راشی لازم دی چه بنده هغه په صبر او شکر سره ومنی! او په قضا سره خپله خوښی او رضاء ښکاره کړی! د راحت او نعمت په وخت کښی دی صبر او تحمل وکړی! او هیله من (آرزومند) او امیدوار دی اوسی چه الله تعالیٰ په خپل فضل او مرحمت سره دغه ټول زحمت او مصیبت له منځه لری کوی.

فَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰى حَقَّهٗ وَ الْمِسْكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ ؕ ذٰلِكَ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ ۫ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۳۸﴾

پس ورکړه (ای مؤمنه!) خاوند د قرابت ته حق د ده (چه نیکی او صلة الرحمی ده) او محتاج ته او مسافر ته دغه (ورکول د حقوقو) خیر غوره دی (له امساک شخه) دیاره د هغو کسانو چه اراده لری د ثواب (رضاء) د الله او هم دغه ورکوونکی (د حقوقو) هم دوی دی خلاصیدونکی بریالیان (کامیاب)

**تفسیر:** یعنی هر کله چه د فطرت په شهادت سره دغه ثابته شوه چه حقیقی مالک او رب العالمین هم هغه الله تعالیٰ دی او د دنیا گرد (ټول) نعمتونه د هم هغه پاک الله ورکړه او عطا ده نو په هغو کسانو چه د ده خوښی او رضا غواړی او د ده د لقاء او د لیدلو آرزو او امید لری لازم دی چه د ده د هغه عطاء او ورکړی ځنی څه شی د ده په لاره کښی صرف کړی. او د مسافرانو، محتاجانو او بی وسو خپلوانو له احواله ځان خبر او هغوی له خپل ځان څخه خوشاله کړی! او د خپلوانو حقوق درجه په درجه اداء کړی! نو دغسی بندگانو ته الله تعالیٰ په دنیا او آخرت کښی خیر ور په برخه کوی.

وَمَآ اٰتَيْتُمْ مِّنْ رِّبًا لِّيَرْبُوَا۟ فِيْٓ اَمْوَالِ النَّاسِ فَلَا يَرْبُوْا عِنْدَ اللّٰهِ ۚ وَمَآ اٰتَيْتُمْ مِّنْ زَكٰوةٍ تُرِيْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُوْنَ ﴿۳۹﴾

او هغه څه چه ورکوئ ئی تاسی له سود نه دپاره د دی چه زیات شی په مالونو د خلقو کښی پس نه زیاتیږی هغه په نزد د الله او هر هغه څه چه ورکوئ ئی تاسی له زکات څخه چه اراده لرئ تاسی په هغه سره د ثواب (او

رضاء) د الله پس دغه (محضالله ورکوونکی) هم دوی دی زیاتوونکی (د حسناتو خپلو)

**تفسیر:** یعنی که څه هم په سود سره ظاهراً د مال زیاتوالی ښکاری، لیکن په حقیقت کښی هغه کمیږی لکه چه د کوم انسان بدن د پړسوب له امله (وجی) غټ او څورب ښکاری نو دغه د صحت او روغتیا علامه نه بلکه د رنځوری نښه او د مرگ پیغام دی او د زکات له ورکولو څخه اگر که په ښکاره ډول (طریقه) سره داسی ښکاری چه د هغه مال کمیږی مگر هغه په حقیقت کښی زیاتیږی لکه چه د کوم مریض بدن له مسهل او تنقیی څخه وروسته ضعیف او ناتوانه ښکاری مگر بالاخره د ده صحت ښه کیږی د سود او زکات حال د انجام په اعتبار هم داسی وگنئ ﴿ يَمْحَقُ اللّٰهُ الرِّبٰوا وَيُرْبِي الصَّدَقٰتِ ﴾ د البقرة (۳۸) رکوع ۲۷۶ آیت په حدیث کښی راغلی دی (که د خرما یوه دانه مؤمن په صدقه ورکړی نو هغه د قیامت په ورځ دومره لوئیږی چه د یوه غره په اندازه به لویه ښکاری.

**تنبیه:** ځینو مفسرینو له «ربوا» څخه دلته سود نه دی مراد کړی بلکه د آیت مطلب ئی داسی بیان کړی دی چه هر هغه انسان چه بل چاته په دغه مقصد یو څه شی ورکړی چه هغه به له دغه څخه زیات شی ورکړی لوی احسان به ورسره وکړی. نو دغه ورکړه د الله تعالیٰ په دربار کښی د ثواب او برکت موجب نه گرځی که څه هم مباح ده او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حق کښی دغه اباحت هم نه لری لقوله تعالیٰ «ولاتمنن تستکثر» د المدثر (۱) رکوع ٦ آیت «۲۹ جزء» والله تعالیٰ اعلم.

اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيْكُمْ ۭ هَلْ مِنْ شُرَكَاۗىِٕكُمْ مَّنْ يَّفْعَلُ مِنْ ذٰلِكُمْ مِّنْ شَيْءٍ ۭ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۝۴۰ۧ

الله هغه (مطلق قادر دی) چه پیدا کړی ئی یئ تاسی (په درکولو د روح سره) بیا ئی روزی درکړی ده تاسی ته بیا مړه کوی بیا به ژوندی کړی تاسی (په بعث) سره آیا شته له دغو شریکانو ستاسی داسی څوک چه کولی شی هغه له دغو (څلورو واړو کارونو) څخه کوم شی؟ (بلکه نشی کولی) پاکی ده الله ته او ډیر لوی پورته دی شان د الله له دی نه چه شریک پیدا کوی دوی (له الله سره)

**تفسیر:** یعنی وژل، ژوندی کول، روزی ورکول، نور گرد (تول) شیان د الله تعالیٰ په واک (اختیار) کښی دی نو بل شریک ئی له کومه شو او څرنگه د الوهیت مستحق وگرځید؟

ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿۴۱﴾

ظاهر شو (آثار د) فساد په بر او بحر (په وچه او لونده) کښې په سبب د هغې (ګناه او شرک) چه کړی دی لاسونو د خلقو دپاره د دی چه وڅکوی (الله) دوی ته څه (سزا) د هغو (عملونو) چه کړی دی دوی دپاره د دی چه واوړی دوی (له دغو بدیو نه)

**تفسیر:** یعنی خلق د فطرت په دین قایم پاتی نشول، کفر او ظلم په دنیا کښې خپور (خور) شو او د هغو له شامته په ملکونو او جزایرو کښې خرابی او فساد خور شو نه په وچه کښې امن او سکون پاتی شو او نه په لونده کښې د ځمکی مخ فتنی او فساد ونیو، بحری جنګونه او د جهازونو جنګونو او داړه ماریو په سمندرونو کښې هم لوی شورماشو او طوفان ونښلاوه دغه ګرد (تول) د دی له امله (وجی) چه الله تعالیٰ اراده وکړه چه بندګان ئی د خپلو بدو اعمالو لږ څه خوند په دنیا کښې هم وڅکی پوره سزا خو دوی ته په آخرت کښې ورکوله کیږی مګر د هغی لږه نمونه هم دلته په هم دغه دنیا کښې دوی ته ورښوله کیږی ممکن دی چه ځینی خلق وویریږی او په سمه لاره روان شی.

**تنبیه:** د بندګانو د بدو کارونو له سببه په وچه او لونده کښې د خرابی خپریدل (خوریدل) که څه هم تل شوی دی او کیږی به، لیکن د نړی تاریخ د هغه بی مثاله ویروونکی تخریب مثال چه د محمدی بعثت څخه مخکښې په عام دول (طریقه) سره په مشرق او مغرب، وچه او لونده ئی غلبه کړی وه نشی ښوولی، اروپائی څیړونکو (محققینو) د دغی زمانی د تیاره حالت کومه نقشه چه ویستلی ده د هغی د لیدلو څخه د دی خبری اندازه په ښه دول (طریقه) سره کیدی شی چه له اسلامی مؤرخینو څخه پرته (علاوه) نور هم په دغه مشهور او معروف صداقت هیڅ دول (طریقه) تنقید او نکته ګیری نشی کولی وګورئ د فرید وجدی دائرة المعارف د حمد ماده ښائی چه د هم دغی عمومی فتنی او فساد په ملحوظ قتاده رحمة الله دغه آیت د جاهلیت په زمانی حمل کړی وی.

قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِنْ قَبْلُ كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُشْرِكِينَ ﴿۴۲﴾

ووایه (ای محمده! مشرکانو ته) چه وګرځئ په ځمکه کښې (د تیرو امتونو) پس وګورئ څرنګه شوه خاتمه د هغو کسانو چه پخوا له دوی څخه وو، ؤ زیاتره د دوی مشرکان «نو د خپل شرک په سبب هلاک شول»

---

**تفسیر:** یعنی د زیاترو شامت د شرک په وجه راغلی دی او د ځینو نورو به د نورو ګناهونو له سببه راغلی وی.

---

فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ الْقَيِّمِ مِن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهُ مِنَ اللَّهِ يَوْمَئِذٍ يَصَّدَّعُونَ ﴿٤٣﴾

---

پس برابر کړه مخ (وجود) خپل دین سم (معتدل د اسلام) ته پخوا له هغه چه راشی هغه ورځ چه نشته هیڅ بیرته ګرځیدل هغی ته له (جانبه د) الله په دغه ورځ کښې به تار په تار شی دغه مخلوق (چه ځینی به جنت ته ځی او ځینی به دوزخ ته)

---

**تفسیر:** یعنی په دنیا کښې خو فتنه او فساد خپور (خور) شوی دی نو تاسی پر سم او معتدل دین چه د فطرت دین دی په ښه شان سره قایم او تینګ اوسئ! چه د ګردو (تولو) خرابیو او مفاسدو علاج په هم دغه دین سره دی. پخوا له هغه چه راشی هغه ورځ چه نشته هیڅ بیرته ګرځیدل هغی ته له جانبه د الله تعالیٰ یعنی د الله تعالیٰ له طرفه د هغی راتلل قطعی او یقینی دی او هیڅ یو قوت او طاقت د هغی مخه نشی نیولی او نه به ئی په خپله الله تعالیٰ وځنډوی (ایسار کړی). په دغه ورځ کښې به تار په تار شی دغه مخلوق یعنی نیکان جنت ته او بدان دوزخ ته لیږی. «فریق فی الجنة و فریق فی السعیر» د الشوریٰ (۱) رکوع ۷ آیت (۲۵) جزء.
حضرت شاه صاحب دغه د دنیا په احوالو حمل کوی او لیکی «یعنی د دین غلبه به وی په سزا رسیدلی کسان به سره جلا (جدا) شی او د الله جل جلاله مقبول بندګان به سره بیل شی.

---

مَن كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُ ۖ وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِأَنفُسِهِمْ يَمْهَدُونَ ﴿٤٤﴾ لِيَجْزِيَ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِن فَضْلِهِ ۚ إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْكَافِرِينَ ﴿٤٥﴾

هر څوک چه کافر شو پس په هغه ده (سزا) د کفر د هغه او هر څوک چه وکړی (نیک عمل) پس خاص لپاره د ځانونو خپلو فرشونه غوړوی او په زړه پوری سامانی جوړوی لپاره د دی چه جزا ورکړی (الله) هغو کسانو ته چه ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه) له فضله خپل څخه، بیشکه چه الله نه خوښوی کافران (نو ځکه ئی په دوزخ کښی غورځوی)

**تفسیر:** یعنی هر څوک چه کافر شو پس په هغه ده سزا د کفر د هغه چه د هغو گناه او وبال به پری لویږی او هر څوک چه وکړی نیک عمل پس خاص دپاره د ځانونو خپلو فرشونه غوړوی او په زړه پوری سامانی جوړوی یعنی په جنت کښی د دوی د آرامی او هوسائی (راحت) له پاره تیاری کیږی. او دپاره د دی چه جزاء ورکړی الله تعالیٰ هغو کسانو ته چه ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه عملونه له فضل خپل څخه یعنی هومره چه ښه او نیک وی هغه ته به هم یوازی د الله تعالیٰ په فضل او مرحمت سره جنت ور په برخه کیږی «بیشکه چه الله تعالیٰ نه خوښوی کافران نو ځکه ئی په دوزخ کښی غورځوی» یعنی هر څوک چه هغه حقیقی مالک نه خوښوی هغه به چیری ښه ځای ومومی.

وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ يُّرْسِلَ الرِّيَاحَ مُبَشِّرٰتٍ وَّلِيُذِيْقَكُمْ مِّنْ رَّحْمَتِهٖ وَلِتَجْرِيَ الْفُلْكُ بِاَمْرِهٖ وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۴۶﴾

او ځینی له نښو (د قدرت) د الله دا دی چه رالیږی بادونه زیری ورکوونکی او دپاره د دی چه وڅکوی په تاسی (په سبب د دغو بادونو) ځینی (مزی) د رحمت خپل او بل دپاره د دی چه روانه شی پری بیړی په امر حکم د الله او دپاره د دی چه طلب کړئ (په چلولو د بیړی له ځینو) له فضل د الله څخه او دپاره د دی چه تاسی شکر وباسئ (په دغو نعمتونو)

**تفسیر:** یعنی بادونه د رحمت د باران زیری او بشارت راوړی بیا د الله تعالیٰ لطف او مهربانی باران ورول. او رالیږی بادونه له پاره د دی چه روانه شی پری بیړی په امر حکم د الله تعالیٰ سره یعنی بادوان لرونکی جهازونه او بیړی په باد سره چلیږی او درومی او دخانی جهازونو او استمرونو ته هم د موافق باد له الوتلو څخه په تگ کښی کومک او معاونت رسیږی. او دپاره د دی چه طلب کړئ تاسی په چلولو د بیړی له ځینو له فضل د الله تعالیٰ څخه او له پاره د دی چه تاسی شکر وباسئ په دغو نعمتونو یعنی د جهازونو په ذریعه تجارتی اموال منتقل او وړل کیږی او

د الله تعالیٰ په فضل او مرحمت سره ډیره ښه گټه (فائده) تری اخیستل کیدی شی بیا د الله تعالیٰ په دغو نعمتونو په ښه شان سره د ده شکر اداء کړئ!
**تنبیه:** پخوا له دی نه په بر او بحر کښی د فتنی او د فساد د خوریدلو ذکر وو د هغه په مقابل کښی دلته د الله تعالیٰ د نعمت او د زیری یادونه وشوه، ښائی دی ته هم اشاره وی چه د غبار، دوړو او بخار له خوریدو وروسته دی ته هیله من (آرزومند) او امیدوار اوسو چه د الله تعالیٰ د رحمت باران راتلونکی دی، داسی یخ او ساړه بادونه الوحٔی او چلیږی چه د پاک الله د رحمت او فضل زیری او بشارتونه ورکوی، کفارو ته ښائی چه له شرارت او د نعمت له کفران څخه لاس واخلی! او د الله تعالیٰ دغو مراحمو او مهربانیو ته وگوری! او دوی دی د ده د شکر گزارو بندگانو څنی خپل ځان وگرځوی.

---

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ رُسُلًا إِلَىٰ قَوْمِهِمْ فَجَاءُوهُم بِالْبَيِّنَاتِ فَانتَقَمْنَا مِنَ الَّذِينَ أَجْرَمُوا ۖ وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٧﴾

---

او خامخا په تحقیق لیږلی ؤ مونږ پخوا له تا (ای محمده! نور) رسولان په طرف د قومونو د دوی ته پس راغلل (دغه رسولان) دوی ته په معجزو ښکاره ؤ (د قدرت) پس بدل واخیست مونږ له هغو کسانو چه کافران شول (نو دوی مو هلاک کړل او مؤمنانو ته مو نصرت ورکړ) او دی حق (تفضلاً) په مونږ نصرت د مؤمنانو

---

**تفسیر:** یعنی پخوا ئی ویلی وو چه مقبول او مردود سره بیل کړی شی. په منکرانو د دوی د گناه وبال او سزاء لویږی او پاک الله دوی نه خوښوی اوس دا ښکاره کوی چه د دغی خبری اظهار به په دنیا کښی هم کیږی. دا د الله تعالیٰ عادت او وعده ده چه له مکذبینو او مجرمینو څخه ضرور انتقام اخلی او کامل مؤمنان په خپلی مرستی (مدد) او اعانت سره په دښمنانو غالبوی. په منځ کښی د باران ذکر ځکه راغی ځرنگه چه د رحمت د باران د نزول څخه پخوا بادونه چلیږی هم داسی د دین د غلبی علایم هم روښانه کیږی.

---

اللَّهُ الَّذِي يُرْسِلُ الرِّيَاحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا فَيَبْسُطُهُ فِي السَّمَاءِ كَيْفَ يَشَاءُ وَيَجْعَلُهُ كِسَفًا فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَالِهِ ۖ فَإِذَا أَصَابَ بِهِ

مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦٓ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُونَ ﴿٤٨﴾

الله هغه (مطلق قادر) دی چه رالیږی بادونه پس پورته کوی (په هوا کښې) وریځې پس خوروی دغه (وریځې) په آسمان کښې څرنګه چه اراده وکړی (الله) او ګرځوی دغه (وریځې) توتې توتې لاندې باندې پس وینی به ته (ای مخاطبه څاڅکی د) باران چه راوځی له منځه د دغې (وریځې) پس کله چه ورسوی دغه باران هغه چاته چه اراده وکړی (الله) له بندګانو خپلو ناڅاپه دوی خوشالیږی پری (او زیری پری کوی)

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ وریځې اول یو لوری ته او وروسته بل لوری ته خپروی (خوروی) هم داسی دین به هم منتشر او هر چیری خپور (خور) کړی لکه چه وئی هم کړل «او ګرځوی دغه وریځې توتې توتې لاندې باندې پس وینی به ته باران چه راوځی له منځه د دغې وریځې پس کله چه ورسوی الله دغه باران هغه چاته چه اراده وکړی له بندګانو خپلو ناڅاپه دوی زیری کوی، خوشالیږی پری» یعنی هم داسی هر څوک چه د ایمان او روحانی باران څخه ګټه (فائده) اخلی نو خوښی پری کوی.

وَإِن كَانُوا۟ مِن قَبْلِ أَن يُنَزَّلَ عَلَيْهِم مِّن قَبْلِهِۦ لَمُبْلِسِينَ ﴿٤٩﴾

او بیشکه چه وو دوی پخوا له دی چه نازل کړی شوی ؤ په دوی (باران) پخوا له (ظهوره له) دی (وریځې او باران) خامخا ناامیده وو (له وربښت څخه ئی)

**تفسیر:** یعنی پخوا له دی نه خلق ناامیده وو تر دی چه د باران له راتګه لږ څه پخوا هم بیخی مایوس شوی وو چه په دغه باران به دغه مره ژوندی شی څنګه چه د انسان حال ډیر عجیب او غریب دی په لږ وخت کښې ناامیده او خپه کیږی بیا له لږ څه وخت نه وروسته له ډیری خوښی نه خاندی او ډیر خوشالیږی.

فَٱنظُرْ إِلَىٰٓ ءَاثَٰرِ رَحْمَتِ ٱللَّهِ كَيْفَ يُحْىِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَآ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمُحْىِ ٱلْمَوْتَىٰ ۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٥٠﴾

نو وګوره (ای مخاطبه) نښې د رحمت (باران) د الله ته چه څرنګه ژوندی

کوی دی دغه ځمکه په باران (د وښو په زرغونولو سره) وروسته له مړوالی او وچوالی د هغی بیشکه دغه (ژوندی کوونکی د ځمکی) خامخا ژوندی کوونکی د مړو هم دی. او هغه (الله) په هر شی باندی (چه اراده وکړی) ښه قادر دی (چه ځینی ئی ژوندی کول او مړه کول دی)

تفسیر: یعنی څو ساعته پخوا له هر لوری خاوری او دوړی پورته کیدی او ځمکه وچه بی رونقه او مړه پرته وه ناڅاپه د الله تعالیٰ له مهربانی څخه ژوندی، شنه او زرغونه شوه او دغه باران د ځمکی دغه پټ قوتونه څرنگه ویښ او راژوندی کړل، هم دغه حال دی په روحانی باران هم قیاس کړ شی چه له هغه څخه به په مړو زړونو کښی نوی روح پیدا شی او د الله تعالیٰ دغه ځمکه د «ظهر الفساد فی البر والبحر» له مرگ څخه وروسته به بیا ژوندی کیږی له هر طرفه به د الله تعالیٰ د رحمت نښی او د دین آثار څرگندیږی (ښکاره کیږی) هغه استعداد او قابلیت چه د مودو راپه دی خوا په خاورو کښی موجود ؤ د رحمت د باران په څاڅکو سره ئی تر او تازه څرگنده او ښکاره کوی لکه چه الله تعالیٰ د محمدی بعثت په وسیله دغه جلوه دنیا ته راښکاره کړه.

﴿ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمُحْيِ الْمَوْتَىٰ ﴾ بیشکه هم دغه محی الارض خامخا ژوندی کوونکی د مړو هم دی او هم دغه الله تعالیٰ په هر شی باندی چه اراده وکړی ښه قادر دی) یعنی دلته به مړو زړونو ته روحانی ژوندون ورکړی او د قیامت په ورځ به په مړو جسدونو کښی بیا نوی روح اچوی. د الله تعالیٰ د کامل قدرت په مقابل کښی هیڅ شی گران او مشکل نه دی.

وَلَئِنْ أَرْسَلْنَا رِيحًا فَرَأَوْهُ مُصْفَرًّا لَّظَلُّوا مِن بَعْدِهِ يَكْفُرُونَ ﴿٥١﴾

او قسم دی که ولیږو مونږ باد (په شنه کښت ـ فصل ) پس وبه وینی دوی دا کښت (فصل) تک زیړ نو خامخا وبه گرځی دوی وروسته له دغه زیړوالی کافران (په تیرو نعمتونو ای محمده! دوی نه د پوهی او منلو تمه مه کوه)

تفسیر: یعنی ړومبی نا امیده وو کله چه باران وشو او وچه کلکه ځمکه تری تکه شنه ژوندی زرغونه شوه او خلق تری خوښ او خوشال شول، اوس که مونږ له هغه وروسته یو سخت باد والوځوو چه د هغه په اثر د دوی گرد (تول) کښتونه (فصلونه) په شینوالی کښی وچ کلک او تک زیړ وگرځی. نو سم د لاسه د دغو خلقو وضعیت بدلیږی او د الله تعالیٰ گرد (تول) احسانونه هیروی او په کفران او ناشکرئ شروع کوی. لنده دا چه د دوی شکر گزاری او ناشکری تول د دنیوی اغراضو تابع دی او دلته د دی په نسبت وائی کله چه انسان د الله تعالیٰ په فضل او احسان په خپل مقصد او مراد وورسید نو نه ښائی چه بی خوفه وگرځی ځکه چه د ده قدرت راز

راز (قسم قسم) څرګندیږی (ښکاره کیږی)، دا نه دی معلوم چه دغه درکړی نعمت کله درڅخه بیرته اخلی ؟ او ښائی دی لوری ته هم اشاره وی چه د دین کښت (فصل) وروسته له دی نه چه په دنیا کښی تک شین او ښه زرغونیږی بیا د مخالف باد له اثره مړاوی او ویجاړ او تک زیړ اوړی نو په دغه وخت کښی نه ښائی چه انسان مایوس او پریشانه شی.

فَإِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاءَ إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِينَ ﴿٥٢﴾ وَمَا أَنتَ بِهَادِ الْعُمْيِ عَن ضَلَالَتِهِمْ ۖ إِن تُسْمِعُ إِلَّا مَن يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا فَهُم مُّسْلِمُونَ ﴿٥٣﴾

پس بیشکه ته نشی اورولی مړو ته (او دغه کفار هم حکم د مړو لری) او نشی اورولی ته کڼو ته غږ (د بللو) کله چه وګرځی دوی په داسی حال کښی چه شا ګرځوونکی وی (تاته) او نه ئی ته سمه لاره ښوونکی (د زړونو) ړندو ته له ګمراهی د دوی، نشی اورولی ته (د پوهی او منلو په اورولو سره) مګر هغه چاته چه ایمان ئی راوړی وی په نښو د قدرت زمونږ پس دوی مسلمانان غاړه ایښودونکی دی

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ هر راز (قسم) قدرت لری. مړی ژوندی کولی شی تاته د دغی خبری قدرت نشته چه په مړو خپله خبره ومنلی شی یا په کڼو خپله خبره واورولی شی. یا ړندو ته سمه صافه لاره وښیی خصوصاً کله چه دوی په خپله د اوریدلو او لیدلو اراده هم ونه لری پس ته د دوی د دغه کفر او ناشکری څخه مه غمجن کیږه ستا کار یوازی تبلیغ او دعوت دی. که کوم بدبخت ئی نه اوری یا ئی نه منی نو له دغه څخه تاته څه نقصان نه پیښیږی ستا خبره همغه څوک اوریدی شی چه زمونږ په خبرو او ښکاره نښو یقین او باور لری او د تسلیم او انقیاد په صفت موصوف وی.

**تنبیه:** هم داسی یو بل آیت د «نمل» د سورت په آخر کښی هم تیر شوی دی ښائی هلته دی وکتلی شی. مفسرین په دغه موقع کښی د «سماع الموتیٰ» په بحث کښی غربدلی دی چه په دغه مسئله کښی د صحابه ؤ رضی الله تعالیٰ عنهم له زمانی راهیسی اختلافات جریان لری او دواړو خواؤ قرآنی نصوص او نبوی احادیث وړاندی کړی دی. دلته ښائی چه په دغه خبره باندی سړی وپوهیږی چه په دنیا کښی هیڅ یو کار بی د الله تعالیٰ له مشیت او ارادی څخه نشی کیدی. مګر که انسان کوم کار د عادی اسبابو په دائره کښی په خپل واک (قبضه) او اختیار سره کوی نو هغه ته ئی نسبت کیږی. او هغه کار چه د عمومی عادت په خلاف په فوق العاده طریقه سره

وشي د هغه نسبت مستقيماً الله تعالیٰ ته کوی. مثلاً که يو سری په چا د توپک ډزی وکړی او په ګولی ئی ووژنی نو دغه وژل (عرفاً) د هم هغه وژونکی فعل ګڼل کيږی. او فرض ئی کړئ که په يو موتی ګټکيو سره سلامت لښکر تباه او برباد شی نو دغه فعل په داسی الفاظو سره تعبيروی چه الله تعالیٰ په خپل قدرت سره هغه لښکر سپيره او پناه کړ، سره له دی چه په ګولی وژل هم بی د الله تعالیٰ له ارادی او مشيت څخه نه واقع کيږی. او که د الله تعالیٰ اراده نه وی نه ګولی او نه بم او نه بل شی له سره خپل تاثير ښوولی شی. د الانفال په (۲) رکوع ۱۷ آيت کښی راغلی دی ﴿ فَلَمْ تَقْتُلُوهُمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ قَتَلَهُمْ ۚ وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ رَمَىٰ ﴾ دلته د خارق العاده توب له کبله (وجی) د «قتل» او «رمی» نفی له نبی او له مؤمنانو څخه وکړه او مستقيماً د هغی نسبت ئی الله تعالیٰ ته کړی دی. هم داسی د ﴿ فَإِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ ﴾ مطلب وګڼئ! يعنی ته نشی کولی چه څه ووائی او خپل غږ مړو ته واوره وی. ځکه چه دغه شی د ظاهری او عادی اسبابو په خلاف دی. هو! د الله تعالیٰ په قدرت د ظاهری اسبابو په خلاف که ستاسو کومه خبره مړی واوری نو له هغه څخه هيڅ يو مؤمن انکار نشی کولی. اوس که د نصوصو څخه د ځينو خبرو اورول چه په دغی غير معمولی طريقی سره ثابت شی تر هم هغه حده پوری ښائی چه مونږ هم د سماع الموتی قائل اوسو. محض د قياس له مخی نشو کولی چه نوری خبری هم د دغی سماع لاندی راوړو. په هر حال په دغه آيت کښی د اسماع له نفی ځينی مطلقاً د سماع نفی نه کيږی. والله تعالیٰ اعلم.

---

اللَّهُ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن ضَعْفٍ ثُمَّ جَعَلَ مِن بَعْدِ ضَعْفٍ قُوَّةً ثُمَّ جَعَلَ مِن بَعْدِ قُوَّةٍ ضَعْفًا وَشَيْبَةً ۚ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ ۖ وَهُوَ الْعَلِيمُ الْقَدِيرُ ﴿٥٤﴾

---

الله هغه (مطلق قادر) دی چه پيدا کړی ئی يئ تاسی له کمزوری (شی څخه چه نطفه ده) بيا ئی درکړی دی وروسته له بل ضعف (د طفوليت) قوت (د ځوانی) بيا ئی درکړی دی وروسته له قوت (د ځلميتوبه) ضعف او د ويښتو سپينوالی پيدا کوی الله هر هغه شی چه اراده وکړی (د پيدايښت د هغه) او هم دغه (الله) ښه عالم دی ښه قادر دی (په هر شی)

---

**تفسير:** يعنی کوچنی (ماشوم) د پيدايښت په وخت کښی بی حده کمزور او ناتوانه وی. بيا ورو ورو قوت مومی، تر دی چه د ځلميتوب په وخت کښی د ده زور او قوت خپل انتهائی حد ته ورسيږی او د ټول زور او قوت ترقی د ځلميتوب په وخت کښی وی. بيا ورو ورو عمر مخ په زوړوالی درومی او له زور او قوت نه وروسته د کمزوری آثار څرګنديږی (ښکاره کيږی) چه د هغی انتهائی حد سپين ږيری توب او زوړوالی دی، په دغه وخت کښی ګرد(ټول) اعضاء سست او

کمزوری کیږی او په قوتونو کښی ئی فتور او تعطیل واقع کیږی. د قوت او ضعف دغه ګردی (تولی) ترقی او تنزل د پاک الله د قدرت په لاس کښی دی هر قسم چه د الله تعالیٰ اراده وی هم هغسی یو شی جوړوی او هغه د ضعف او قوت له مختلفو ادوارو څخه تیروی، هم دغه الله تعالیٰ ته هر نوع قوت او قدرت حاصل دی او هم دغه الله تعالیٰ ښه پوه او ښه عالم دی چه کوم یو شی په کوم وخت کښی او په کومو کومو حالاتو کښی په څه ډول (طریقه) سره ښائی چه موجود وی ؟ نو په مونږ واجب او لازم دی چه د هم دغه الله تعالیٰ جل واعلیٰ شانه واعظم برهانه او د ده د رسولانو خبری په ښه شان سره واورو. ښائی په دغه کښی دی طرف ته هم اشاره کړی وی هم هغسی چه تاسی ته ئی وروسته له کمزوری څخنی زور او قوت درکړ مسلمانانو ته به هم پس له دغه ضعفه قوت ورکړی او هغه دین چه اوس په ظاهر کښی کمزوری او کم قوته ښکاری څو ورځی وروسته به د ډیر زور او قوت خاوند وګرځی او خپل عروج او شباب ته به ورسیږی. له هغی وروسته بیا کیدی شی چه یوه زمانه د مسلمانانو د ضعف دوره هم راشی. نو سره له هغی لازمه ده چه دغه خبره تل په یاد وساتله شی چه قادر خدای په هر وخت کښی ضعف په قوت سره بدلولی شی مګر د داسی امر د وقوع له پاره مخصوص صورتونه او اسباب شته، والله تعالیٰ اعلم.

وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ يُقْسِمُ الْمُجْرِمُونَ ۙ مَا لَبِثُوا غَيْرَ سَاعَةٍ ۚ

او په هغی ورځی کښی چه قائم شی قیامت نو قسمونه به خوری مجرمان (کافران په دی) چه نه دی پاتی شوی (په دنیا کښی) غیر له یو ساعته

**تفسیر:** یعنی په قبر یا په دنیا کښی به هستوګنه ورته ډیره لږه ښکاری. څه وخت چه غم او مصیبت د ده په سر باندی ودریږی او دی ورته وګوری نو په ډیر افسوس او ارمان سره به ووائی چه د برزخ او د دنیا ژوندون ډیر ژر راباندی تیر شو او لږ څه ډیل او مهلت راپه برخه نشو چه په هغه کښی مو د دغه دردوونکی عذاب څخه د نجات له پاره څه سعی او کوشش کړی وی. یا په دنیا کښی لږ ډیره موده پاتی کیدو څو د دغی ورځی له پاره مو څه تهیه او تیاری کړی وی دغه مصیبت خو یو ناڅاپه راته پیښ شو.

كَذَٰلِكَ كَانُوا يُؤْفَكُونَ ﴿٥٥﴾

هم دا رنګه (چه دوی دروغ وائی په آخرت کښی) وو دوی چه ګرځول کیدل به (له رښتیا نه په دنیا کښی)

**تفسیر:** یعنی لکه چه هم هغلته د دوی داسی وینا وی به غلطی او دروغ وی هم داسی وپوهیږئ چه

په دنیا کښې به هم دغه خلق چتی (بیکاره) او غلط خیالات او معکوسی او منقلبی خبری او اتری به سره کوی.

وَقَالَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ وَ الْاِيْمَانَ لَقَدْ لَبِثْتُمْ فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ اِلٰى يَوْمِ الْبَعْثِ ز فَهٰذَا يَوْمُ الْبَعْثِ وَلٰكِنَّكُمْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۵۶﴾

او وائی به دوی ته هغه کسان چه ورکړی شوی ؤ دوی ته علم او ایمان (یعنی انبیاء، پرښتی، مؤمنان چه ولی دروغ وائی بلکه) خامخا په تحقیق ډیر پاتی شوی یئ (په دنیا کښې چه هغه لیکلی دی) په کتاب د الله (لوح محفوظ) کښې تر ورځی د بعث پوری پس دغه ده ورځ د بعث (چه تاسی تری منکران وئ) ولیکن تاسی وئ تاسی په دنیا کښې چه د جهل او غفلت له امله (وجی) نه پوهیدئ (د دغی ورځی په وقوع)

**تفسیر:** یعنی مؤمنان او پرښتی به په دغه وخت کښې د دوی تردید کوی او دوی ته به داسی وائی چه تاسی دروغ او خوشی چتی (بیکاره) خبری کوئ یا په مغالطه کښې لویدلی یئ چه مونږ په برزخ یا په دنیا کښې له یو ساعت څخه زیات نه یو پاتی شوی. تاسی د الله تعالیٰ د علم او د ده د خبر او د لوح محفوظ د لیکنی سره سم د قیامت تر ورځی پوری په دنیا او په برزخ کښې اوسیدلی یئ چه د یوی شیبی (لحظی) په اندازه هم په هغه کښې څه کمی نه دی واقع شوی. نن له هم هغی وعدی سره سم هغه ورځ رارسیدلی ده اوس هغه وګورئ چه تاسی پری نه پوهیدی او نه مو منله که له پخوا څخه مو په دغی ورځی یقین کړی وی او له تیاری سره ورته راغلی وی نو د دغه ځای له لذتونو او مسرتونو څخه به محظوظ او متمتع شوی وی. او د دغو انعامونو او اکرامونو د لیدلو په مقابل کښې به مو داسی ویل چه دغه ورځ په ډیر ځند (ایسارتیا) او ډیل راغلی ده او مونږ د دی د راتللو ډیر انتظار او اشتیاق ویستلی دی لکه چه مؤمنان ئی هم داسی ګنی.

فَيَوْمَئِذٍ لَّا يَنْفَعُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مَعْذِرَتُهُمْ وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴿۵۷﴾

پس په دغی ورځی کښې به نه رسوی ګټه (فائده) هغو کسانو ته چه ظلم کړی دی دوی (په ځانونو خپلو په کفر سره) عذر د دوی او نه به دوی وبللی شی راضی کولو د الله ته (یا به نه له دوی نه معذرت غوښتلی کیږی).

**تفسیر:** یعني نه به کوم معقول عذر وړاندی کولی شي چه د دوی په کار ورشي او نه به دوی ته داسي ویل کیږي ښه ده اوس د توبی او اطاعت په ذریعه د الله تعالیٰ خوښي او رضا حاصله کړئ ! ځکه چه د هغو وخت تیر شوی دی. او اوس پرته (علاوه) له دی نه چه د دایمي سزا ربړونه (تکلیفونه) وګالئ(برداشت کړئ) بل هیڅ یوه چاره او مخلص نه دی پاتی

وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا الْقُرْآنِ مِن كُلِّ مَثَلٍ ۚ وَلَئِن جِئْتَهُم بِآيَةٍ لَّيَقُولَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ أَنتُمْ إِلَّا مُبْطِلُونَ ۝٥٨

او خامخا په تحقیق بیان کړی دی مونږ دپاره د خلقو په دغه قرآن کښي له هر قسم مثال (چه مفید واقع کیږی دوی ته) او (قسم دی ای محمده !) که راوړی ته دوی ته کوم آیت د قدرت نو خامخا وبه وائی هرومرو (خامخا) هغه کسان چه کافران شوی دی (عناداً) چه نه یئ تاسی (ای محمده ! او مؤمنانو !) مګر (دروغجنان) باطل ویونکی

**تفسیر:** یعني په دغه وخت کښي به ډیر افسوس او ارمان کوی مګر نن چه د الله تعالیٰ د خوښي، رضا او لقاء حاصلولو وخت او موقع ده او عظیم الشان قرآن دوی ته داسي عجیب مثالونه او دلیلونه بیان او راز راز (قسم قسم) خبری ورته کوی او په هره ممکنه طریقه سره ئی په خپل خیر او شر پوهوی خو سره له هغه هم دوی په هغو باندی خپل ځان نه پوهوی او نه د هغو هیڅ یو پند او خبره اوری. څومره مهم او عالي آیتونه چه دوی ته واوروئ یا ډیر لوی اوصاف او څرګند (ښکاره) معجزات ورښکاره کړئ نو دوی د هغو په اوریدلو او لیدلو داسي وائي چه تاسی رسول الله او مسلمین ګردو (ټولو) لاسونه سره یو کړی دی او دغه دروغ مو(العیاذ بالله) له خپله ځانه جوړ کړی دی، یو تن مو څو آیتونه جوړوی او درلولی ئی او نور د هغه تصدیق کوئ یو جادو او کوډی کوی او نور دغه ته تیار ولاړ دی چه په هغه ایمان راوړی، په دغه ډول (طریقه) مو ګردو (ټولو) سره یو تړون کړی دی او یوه اتحادیه مو سره جوړه کړی ده او غواړئ چه په دغه چل سره خپل مذهب او مسلک خپور(خور) کړئ.

كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ۝٥٩

هم دا رنګه (لکه چه مهر لګولی دی) مهر لګوی الله په زړونو د هغو کسانو چه نه پوهیږی (او نه د پوهي غوښتنه کوی)

**تفسیر:** یعنی هغه انسان چه نه پوهیږی او نه د پوهیدلو دپاره زیار(محنت) او کوشش کوی او د ضد او عناد له سببه خامخا د هری خبری تردید او انکار ته هم تیار ولاړ وی نو د دغه وضعیت دوام ورو ورو په تدریجی توګه (طریقه) د ده زړه کلکوی او د شرک، شک، تردید او انکار مهر پری لګوی او بالاخر د ډیر ضد او عناد له سببه د ده زړه دومره سخت شی چه د حق د منلو قوت او استعداد پکښی بیخی پاتی نشی. (العیاذ بالله)

فَاصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ وَلَا يَسْتَخِفَّنَّكَ الَّذِينَ لَا يُوقِنُونَ ﴿٦٠﴾ ع

پس صبر کوه (ای محمده! په ضرر د دوی) بیشکه چه وعده (د نصرت) د الله حقه ده او نه دی پورته کوی ته هغه کسان چه یقین نه راوړی (په آخرت)

**تفسیر:** یعنی کله چه د دغو بدبختانو د ضد، عناد، او تکرار احوال او مقدار تر دغو درجو پوری ورسیدل نو ته د دوی له دغه شرارت، بغاوت، او طغیان څخه مه خپه کیږه! بلکه د پیغمبری په صبر، تحمل او حلم سره ورنه تیرېږه! او په خپل دعوت، تبلیغ، پند او نصیحت کښی مشغول او لګیا اوسه! هغه د فتحی او نصرت وعده چه له تاسره رب العزت کړی ده، هغه په یقینی ډول (طریقه) کامله او پوره کیدونکی ده او په هغه کښی د یوی ذری په اندازه هم څه تفاوت او تخلف واقع کیدی نشی. ته په خپل کار تل ټینګ اوسه! دغه بد عقیده او بی یقینه خلق د یوی ذری په اندازه هم تا له خپله ځایه څخه نشی خوځولی.

**(تمت سورة الروم بعون الله الحی القیوم فله الحمد والمنة اولا و آخرا وظاهرا وباطنا)**

«سورة لقمٰن مكية الا الايات ٢٧ و ٢٨ و ٢٩ فمدنية وهی اربع وثلاثون آية و اربع ركوعات رقم تلاوتها (٣١) و تسلسلها حسب النزول (٥٧) نزلت بعد سورة الصافات»

«د لقمٰن سورت مکی دی پرته له ۲۷، ۲۸، ۲۹ آیتونو نه چه مدنی دی (۳٤) آیتونه او (٤) رکوع لری»

«په تلاوت کښی (۳۱) په نزول کښی (۵۷) سورت دی وروسته د الصافات د سورت څخه نازل شوی دی»

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

الٓمٓ ۝١ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ ۝٢ هُدًى وَّرَحْمَةً لِّلْمُحْسِنِيْنَ ۝٣
الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ
يُوْقِنُوْنَ ۝٤ اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝٥

---

دا آیتونه د کتاب حکمت لرونکی (محکم قرآن) دی. په داسی حال کښی چه هدایت او رحمت دی دپاره د نیکو کارانو هغه کسان چه قائموی (سم ادا کوی سره له تولو حقوقو) لمونځ او ورکوی دوی (واجب) زکوٰة او دوی په آخرت باندی هم دوی یقین کوی (چه خامخا راځی په حقه سره) دغه (ستایلی شوی کسان) په سمه لیاره دی له (طرفه) د رب د دوی او دغه «کسان» هم دوی په مراد رسیدلی دی.

---

**تفسیر:** دغه کتاب خاص د نیکانو دپاره د رحمت او هدایت پنګه (سرمایه) ده ځکه چه هم دغه خلق ورنه ګټه (فائده) اخلی که نه نو په نفس نصیحت او پوهولو کښی ذکر د جن او انس په حق کښی ښکاره هدایت او رحمت دی. د «سورة البقرة» په اوله رکوع کښی د دغه مقدس تفسیر په شپږم او اووم مخکښی هم داسی نور آیتونه هم تیر شوی دی او د «هم المفلحون» دوه ترجمی شوی دی دلته دی هم هغه بیا وکتل شی!

---

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْتَرِيْ لَهْوَ الْحَدِيْثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ
اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۖ وَّيَتَّخِذَهَا هُزُوًا ۭ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ۝٦

---

او (ځینی) له خلقو شخه هغه شوک دی چه پیری، اخلی عبثی خبری (اړوونکی له حق شخه) دپاره د دی چه وښویوی (خلق) له لاری د الله نه بی له علمه (په عاقبت د فعل خپل) او چه ونیسی دا (لاره یا آیتونه) په توکو مسخرو، دغه (کسان) شته دوی ته عذاب سپکوونکی.

---

**تفسیر:** د مفلحینو نیکبختانو په مقابل کښی دلته د هغو بدبختانو ذکر دی چه د خپل جهالت او نادانی او آخری خاتمی ته د نه کتلو له امله (وجی) ئی قرآن کریم پری ایښی په لوبو، لهوو

لعبو یا په نورو واهیاتو او خرافاتو کښې مستغرق دی غواړی چه نور هم په هم داسې مشغولیتو او ساعت تیریو کښې مشغول او لګیا او د الله تعالیٰ له دین او یاد څخه غافل او بې پروا کړی او د الله تعالیٰ یاد تری هیر کړی او په دینی خبرو پوری خاندی او پری مسخری او ملندی وهی.
حضرت حسن رضی الله تعالیٰ عنه د «لهو الحدیث» په متعلق وائی «**کل ما شغلک عن عبادة الله وذکره من السمر والاضاحیک والخرافات والغناء ونحوها** (**روح المعانی**) یعنی لهو الحدیث هر هغه شی دی چه د الله تعالیٰ له عبادت او له یاد څخه لری کوونکی وی، مثلاً فضولی قصی ویل، چتی (بیکاره) د خندا او توکو خبری چتی (بیکاره) کارونه، ساز او سرود او نور.
په روایتونو کښې راغلی دی چه نضر بن حارث چه د کفارو له مشرانو څخه ؤ کله چه به د تجارت دپاره پارس ته تلو نو له هغه ځای به ئی د عجمو باچایانو قصی او د تواریخو کتابونه له خپله ځانه سره راوړل او قریشو ته به ئی ویل چه محمد صلی الله علیه وسلم تاسی ته د عاد او ثمود قصی آوروی راځئ چه زه تاسی ته د رستم او د اسفندیار او د آریانا د باچایانو قصی واوروم. ځینو خلقو هغه قصی ښی او په زړه پوری ګڼلی او ورته به متوجه کیدل، هغه یوه سندرغاړی وینځه هم پیرودلی (اخیستلی) وه کله چه ده ولیدل چه د کوم سړی زړه نرم او اسلام ته لږ څه متمایل شوی دی نو هغه به ئی د هغی سندرغاړی کره لیږه او ورته ویل به ئی چه دغه ته ښه ډوډی او د څښلو شیان ورکوه او ښی بدلی ورته اوروه! بیا به ئی دغه سړی ته ویل چه ګوره دغه میلی او چرچی له هغه څخه ډیری ښی او بهتری دی چه محمد صلی الله علیه وسلم دی هغه لوری ته بولی چه لمونځ کوه! روژی نیسه! ځان دی په شهادت ورسوه! نو په دغه باندی دا آیتونه نازل شول.
**تنبیه:** د دغه آیت شان نزول اګر که خاص دی مګر د الفاظو د عمومیت له وجی ئی حکم عام دی. هغه لهو (شغل) چه د اسلامی دین څنی د خلقو اړوونکی وی یا د اړولو له موجباتو څخه وی ممنوع او حرام بلکه کفر دی او هغه شیان چه د ضروری شرعی احکامو څخه انسان ستنوی (منع کوی) یا د معصیت سبب ګرځی ګناه او معصیت دی هو! هغه لهو چه د کوم واجب امر مانع نه وی او کوم شرعی غرض او مصلحت په هغه کښې نه وی هغه مباح دی. لیکن د لایعنی والی له سببه خلاف الاولیٰ دی. آس ځغلول، غشی او نوری نښی ویشتل یا د زوجینو ملاعبت چه په شرعی حدودو کښې وی څرنګه چه په معتد به شرعی اغراضو او مصالحو مشتمل دی نو ځکه د باطل لهو څخه مستثنیٰ ګرځول شوی دی. پاتی شوه د غناء او سماع مسئله، ښائی د هغو تفصیلات دی په فقهی او نورو کتابونو کښې ولیدل شی! د مزامیرو او ملاهیو په حرمت خو په صحیح البخاری شریف کښې حدیث موجود دی. البته نفس الغنا تر یوی درجی پوری مباح ګڼل شوی ده خو د هغی قیود او شرطونه دی هم په کتابونو کښې ولوستل شی. د «روح المعانی» صاحب د دی آیت لاندی د غناء او سماع د مسئلی تحقیق په زیات تفصیل سره لیکلی دی. هلته دی وکتل شی!.

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ آيَاتُنَا وَلَّىٰ مُسْتَكْبِرًا كَأَن لَّمْ يَسْمَعْهَا كَأَنَّ فِي أُذُنَيْهِ وَقْرًا ۖ فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٧﴾

او کله چه ولوستل شي په ده باندی آیتونه (د قرآن) زمونږ نو وګرځوی تری مخ حال دا چه متکبر غاړه غړونکی وی داسی چه ګواکی له سره ئی نه دی اوریدلی (دا آیتونه) ګواکی په دواړو غوږونو د ده کښی درونډ والی، کونوالی دی پس زیری، خبر ورکړه ته هغه ته په عذاب دردناک سره.

**تفسیر:** یعنی د غرور او تکبر له سببه نه غواړی چه زمونږ آیتونه واوری بلکه د هغه په مقابل کښی بیخی ځان کوڼ اچوی.

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ جَنَّاتُ النَّعِيمِ ﴿٨﴾ خَالِدِينَ فِيهَا ۖ وَعْدَ اللَّهِ حَقًّا ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٩﴾

بیشکه هغه کسان چه ایمان راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه) شته دوی لره جنتونه د نعمتونو (د هستوګنی له پاره) حال دا چه تل به وی دوی په دغو (جنتونو) کښی (دغه وعده کړی ده) وعده د الله حقه، رښتیا او هم دی دی ښه غالب قوی (د احکامو په انفاذ) ښه حکمت لرونکی (چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی)

**تفسیر:** یعنی هیڅ یو قوت دی د وعدی له سر ته رسولو څخه نشی ستنولی (منع کولی) او نه له چا سره بی موقعه وعده کوی.

خَلَقَ السَّمَاوَاتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا

پیدا کړی دی (الله) آسمانونه بی له ستنو چه وینئ تاسی هغه

**تفسیر:** د دغه (د عمد د) لفظ تفسیر د «رعد» د سورت په اوله کښی تیر شو هلته دی وکتل

شی.

وَاَلْقٰى فِى الْاَرْضِ رَوَاسِيَ اَنْ تَمِيْدَ بِكُمْ

او غورځولی (پیدا کړی ئی دی) په ځمکه کښې غرونه دپاره د دی چه ونه خوځیږی دا ځمکه پر تاسی

**تفسیر:** یعنی د ځمکی د انتظام او استقرار له پاره خورا (ډیر) لوی او درانه غرونه پری درولی شوی دی چه د سمندر له موجونو یا د سختی هوا له جتکو یا د نورو طبیعیه ؤ اسبابو له اثره ونه لرزیږی او یوی خوا ته مائله نشی. د «نحل» د سورت په اوله کښې دغه مضمون پخوا له دی نه تیر شوی دی. باقی د غرونو د پیدا کیدلو مصلحت یوازی پر هم دغومره حکمت چندانی محدود او منحصر نه دی نور داسی ډیر فواید او حکمتونه هم پکښې مضمر او موجود دی چه هغه ګرد (تول) پاک الله ته معلوم او ښکاره دی.

وَبَثَّ فِيْهَا مِنْ كُلِّ دَآبَّةٍ ۭ وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍ كَرِيْمٍ ﴿۱۰﴾

او وئی شیندل (خواره واره ئی کړل) په دغه ځمکه کښې له هر قسم خوځیدونکو ساکښو (ژوندارو) څخه او نازلی کړی دی مونږ له «طرفه» د آسمانه اوبه پس زرغونه کړی دی مونږ په دغه (ځمکه) کښې له هر هر قسمه ګیاه ښې (خاصی جوړی).

**تفسیر:** یعنی هر قسم ښایسته، ښکلی، ګټوری او نفیسی ونی ئی په ځمکه کښې زرغونی کړی دی د «الشعراء» د سورت په شروع کښې په هم دغه مضمون یو بل آیت هم تیر شوی دی هلته دی وکوت شی!

هٰذَا خَلْقُ اللّٰهِ فَاَرُوْنِيْ مَاذَا خَلَقَ الَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖ ۭ بَلِ الظّٰلِمُوْنَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۱۱﴾

دغه (تول مذکوره شیان) مخلوق د الله دی پس وښیئ (ای مشرکانو!) ماته هغه شي چه پیدا کړی دی هغو «بتانو» بی له الله نه بلکه دغه ظالمان مشرکان په گمراهي ښکاره کښی دی

**تفسیر:** کله چه د هغو مخلوق نشئ راښوولی نو په کوم مخ او خوله هغوی د الله تعالیٰ شریکان گرځوئ ؟ او د معبودیت وړ (لائق) او مستحق ئی بولئ؟ معبود خو داسی یو جامع الصفات ذات کیدی شي چه د هغه په واک (اختیار) او قدرت کښی پیدا کول، وژل، روزی رسول او نور گرد(تول) شیان وی مگر دلته دوی د پیدا کولو او د نورو افعالو یوه ذره اختیار هم نه لری مگر دغه ظالمان د فکر، ذکر، غور او دقت سره هیڅ علاقه او ارتباط نه لری په توره تیاره کښی پراته دی او حیران او سرگردانه گرځي. وروسته له دی نه د شرک او عصیان د تقبیح دپاره د حضرت لقمان نصایح نقلوی چه دی د الله تعالیٰ له طرفه په دغو شیانو پوهیدلی وو او هغه ئی خپل زوی ته د پند او نصیحت په دول (طریقه) بیان کړی دی.

وَلَقَدۡ اٰتَيۡنَا لُقۡمٰنَ الۡحِكۡمَةَ اَنِ اشۡكُرۡ لِلّٰهِ ؕ وَمَنۡ يَّشۡكُرۡ فَاِنَّمَا يَشۡكُرُ لِنَفۡسِهٖ ۚ وَمَنۡ كَفَرَ فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِىٌّ حَمِيۡدٌ ﴿۱۲﴾

او خامخا په تحقیق ورکړی ؤ موږ لقمان ته حکمت (عقل، علم او ویلی ؤ موږ ده ته) چه شکر کوه الله ته او هر چا چه شکر وکړ پس بیشکه هم دا خبره ده چه شکر کوی دپاره (د ښیگڼی «فائدی») د ځان خپل او هر څوک چه کافر شو پس بیشکه الله غنی دیر بی پروا د گردو محامدو څښتن (خاوند) دی.

**تفسیر:** د زیاترو علماؤ رایه داسی ده چه حضرت لقمان نبی نه ؤ، هو! یو پاک او متقی انسان ؤ چه الله تعالیٰ ورته اعلیٰ درجه عقل، فهم، متانت او پوهه ورکړی وه، ده د خپل عقل او پوهی په قوت داسی خبری ځان ته کشفي او څرگندی (ښکاره) کړی وی چه د انبیاؤ له احکامو او هدایاتو سره موافقی وی. د ده د عقل او پوهی نصایح او د حکمت خبری په خلقو کښی له قدیم الایامه معروفی او مشهوری وی. رب العزت د هغه یوه برخه دغه ده چه په خپل عظیم الشان قرآن کښی هم نقلوی او د ده مرتبه لا زیاتوی. ښائی له دی نه مطلب دا وی چه د شرک، کفر او عصیان قباحت هم هغسی چه د انسانی فطرت په شهادت او د انبیاء الله له وحی ثابت دی د دنیا د غورو او منتخبو عاقلانو او فاضلانو مفکوره او مقوله هم د هغه تائید او تصدیق کوی، پس کفار ولی د توحید څخه بیزاره او کفر او شرک ئی ځان ته غوره او اختیار کړی دی ؟ او د

دوی دغه وضعیت که ښکاره گمراهی نه دی نو بل څه شی دی ؟
**تنبیه:** حضرت لقمان د کوم ځای اوسیدونکی وو ؟ او په کومه زمانه کښې ئې ژوندون درلود (لرلو)؟ د دغو خبرو پوره او کامل تعین نشی کیدی د زیاترو دا قول دی چه دی حبشی ؤ او د حضرت داود علیه السلام په زمانه کښې ئې ژوند کاوه د ده په نسبت ډیری قصی او اقوال په نورو تفاسیرو کښې نقل کړی شوی دی فالله اعلم بصحتها.

﴿ وَمَن يَشْكُرْ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِ ﴾ او هر چا چه شکر وکړ پس بیشکه هم دا خبره ده چه شکر کوی دپاره د ښیگڼی (فائدی) د ځان خپل او هر څوک چه کافر شو پس بیشکه چه الله غنی ډیر بی پروا د گردو (ټولو) محامدو څښتن (خاوند) دی) یعنی پر دغه لوی احسان او نورو احسانا‌تو ښائی چه د حقیقی منعم شکر اداء او د ده حق پیژندل ضروری وگڼل شی. لیکن دغه خبره دی واضحه وی چه د دغه حق پیژندلو او شکر ایستلو څخه الله تعالیٰ ته هیڅ یوه فائده نه رسیږی هو! هغومره گټه (فائده) او نفعه چه رسیږی په خپله هم دغه عارف او شاکر ته رسیږی چه په دنیا کښې ډیر انعام او اکرام او په آخرت کښې اجر، ثواب او ښه مقام ئې ور په برخه کیږی. که دوی ناشکری او کفران کوی نو خپل ځان ته تاوان رسوی الله تعالیٰ داسی شکر گزاریو ته هیڅ ضرورت او احتیاج نه لری د الله تعالیٰ په حمد او ثناء کښې د دنیا ټول مخلوقات د حال په ژبه مشغول او لگیا دی. او په فرض محال که کوم حامد او ثنا ویونکی له سره هم نه وی خو بیا هم پاک الله د خپل جامع الصفات او منبع الکمالات والی په بناء په خپله محمود دی او د چا د حمد او شکر کولو یا نه کولو څخه د ده په کمالاتو کښې د یوی ذری په اندازه هم څه زیاتی او کمی نه پیښیږی.

---

وَإِذْ قَالَ لُقْمَٰنُ لِابْنِهِۦ وَهُوَ يَعِظُهُۥ يَٰبُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِٱللَّهِ

---

او یاد کړه (ای محمده! هغه وخت) چه وویل لقمان زوی خپل ته حال دا چه ده پند ورکاوه ده ته ای زوی گوتیه زما مه شریک کوه له الله سره

---

**تفسیر:** دا نه ده معلومه چه د ده زوی مشرک ؤ که موحد، که مشرک ؤ خو ښکاره ده چه ده ته ئې سمه لاره ښوولی ده او غوښت ئې چه د هدایت په لاره لاړ شی. او که موحد ؤ نو په دغه سره ئې د ده د لا استحکام او مضبوطتیا په توحید غوښتله او د ټینگ اوسیدلو په غرض ئې ورته دغسی وصیت کړی دی.

---

إِنَّ ٱلشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ﴿١٣﴾

---

بیشکه چه شرک خامخا ظلم دی ډیر لوی.

**تفسیر:** له دی نه به بله بی انصافی څه وی چه عاجز مخلوق ته د مختار خالق درجه ورکړی شی ؟ او له دی نه به زیات حماقت او ظلم په خپل ځان بل څه وی چه له اشرف المخلوقات والی سره سره د دیرو خسیسو او سپکو شیانو په مقابل کښې د خپل عبودیت سر ښکته کړی ؟ لا حول ولاقوة الا بالله العلی العظیم

وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ وَهْنًا عَلَىٰ وَهْنٍ وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ إِلَيَّ الْمَصِيرُ ﴿١٤﴾

او وصیت، امر کړی دی موږ انسان ته له مور او پلار خپل سره (په نیکی کولو ځکه چه په نس کښې) ګرځاوه ده لره مور د ده په سستۍ سره له پاسه د بلی سستۍ او بیلول د ده دی (له تی نه) په (پوره کیدلو د) دوو کلونو کښې (او ورته ویلی دی موږ داسی) چه شکر کوه ! ماته او مور پلار خپل ته خاص بیا ماته دی راتله (ستاسو ای انسانانو!)

**تفسیر:** یعنی د مور حق له پلار نه هم زیات دی ځکه چه مور تر ښو میاشتو پوری دی په خپله ګیډه کښې ګرځوی بیا د حمل له وضعی نه وروسته تر دوؤ کلونو پوری تی ورته ورکوی او د ده د تربیې او پاللو په ضمن کښې راز راز(قسم قسم) تکالیف او ربړونه (زحمتونه) ګالی (برداشت کوی) او زحمتونه او تکالیف په ځان اخلی او خپله آرامی او هوسائی (راحت) تری جاروی (قربانوی) نو ضروری ده چه هر انسان پوهبې د الله تعالیٰ او بیا د خپل مور او پلار حقوق په مخصوص دول (طریقه) سره وپیژنی او په ځای ئی کړی. یعنی د الله تعالیٰ عبادت وکړئ! او د مور او پلار په خدمت او اطاعت کښې له توان سره سم بوخت اوسئ! او له سره تری غاړه مه غړوئ! خو تر هغی پوری چه د الله تعالیٰ معصیت ته مفضی نشی ځکه چه د الله تعالیٰ حق په دوی مقدم دی او د ده په حضور کښې تاسی او دوی ګرد (تول) سره حاضریږئ نو ښائی چه انسان دی په خپل زړه کښې ښه فکر او غور وکړی چه په کوم مخ او خوله به دی له پاک الله سره مخامخ کیږی.

**تنبیه:** د تی نه بیلولو موده چه دلته دوه کاله بیان شوی ده د غالب عادت او اکثریت په ملحوظ ده، زموږ امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه چه د تی ورکولو زیاتره موده دوه نیم کاله بولی له ده سره به بل کوم دلیل وی د نورو جمهورو په نزد هم هغه دوه کاله ده والله اعلم.

وَإِن جَاهَدَاكَ عَلَىٰ أَن تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا

وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا وَّاتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَيَّ

او كه كوشش وكړى دا مور او پلار په تا په دى چه شريک كړى ته له ماسره هغه شى چه نه وى تاته په هغه سره څه علم، پوهه نو اطاعت مه كوه د دى دواړو او ملگرتيا كوه له دوى سره په دنيا كښى ښه غوره (ملگرتيا له شرعى سمه) او متابعت كوه په دين كښى د لارى د هغه چا چه بيرته راگرځيدلى دى ماته (په توحيد سره)

**تفسير:** حضرت شاه صاحب ليكى چه «شريک ورسره مه پيدا كوه هغه شى چى تاته نه دى معلوم! يعنى په شبهه كښى ئى هم مه منه! او كه په يقين سره پرى پوهيږى خو له سره ئى مه منه!» د دين په خلاف د مور او پلار وينا مه منه! هو! په دنيوى معاملاتو كښى له هغوى سره نيكى او ښه سلوک كوه! په هم دغه مضمون يو بل آيت هم د «العنكبوت» په سورت كښى تير شوى دى د هغه تفسير دى هلته ولوستل شى! د انبياؤ او مخلصو بندگانو په لياره درومه! او د دين په خلاف د خپل مور او پلار تقليد او اطاعت مه كوه!

ثُمَّ إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ⑮

بيا (خاص) ماته راتله ستاسى دى ( د تولو په قيامت كښى د حساب دپاره) پس خبر به كړم زه تاسى په هغو عملونو چه وى تاسى چه كول به تاسى (په دنيا كښى له خير او شر نه)

**تفسير:** يعنى وروسته له دى نه چه د الله تعالىٰ دربار ته ورسيږئ نو اولاد او والدينو او نورو گردو (تولو) ته به دغه خبره معلومه او ځرگنده (ښكاره) شى چه كوم يو متجاوز او مقصر ؤ؟
**تنبيه:** له «ووصينا الانسان» څخه تر دى ځاى پورى د الله تعالىٰ كلام دى ړومبى خپل زوى ته د لقمان وصيت ؤ او وروسته هم له «يابنى انها ان تک» څخه د هم دغه وصيت سلسله ده. په منځ كښى الله تعالىٰ له خپلى خوا يو ضرورى تنبيه وكړه يعنى شرک دومره سخت او قبيح شى دى تر دى چه كه مور او پلار خپل اولاد پرى مجبور كړى خو بيا ئى هم څوک نشى غوره كولى.
حضرت شاه صاحب ليكى «لقمان خپل زوى ته د مور او پلار حق نه ؤ ورښوولى چه د ده غرض پكښى معلوميده، الله تعالىٰ د توحيد له نصيحت څخه وروسته او له نورو نصايحو څخه مخكښى د مور او پلار حق بيان كړ چه وروسته د الله تعالىٰ له حق څخه د مور او پلار حق دى. پلار د الله

تعالیٰ حق او الله تعالیٰ د پلار حق بیان کړ باقي د نبي یا مرشد یا هادي حق هم د الله تعالیٰ د حق په ذیل کښې وګڼئ! چه دوی دغه راز (قسم) د الله تعالیٰ نائبان دي» (موضح په لږ تغیر سره) نو وویل لقمان خپل زوی ته داسې

يٰبُنَيَّ إِنَّهَآ إِن تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ فَتَكُن فِي صَخْرَةٍ أَوْ فِي السَّمٰوٰتِ أَوْ فِي الْأَرْضِ يَأْتِ بِهَا اللَّهُ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ ﴿١٦﴾

ای زوی ګوتیه زما بیشکه دا (د بدی او نیکی خصلت) که کوم شی وی په قدر د دانی له اوری څخه پس وی دا دانه په کومی تیږی (ګټی) کښې یا وی په اسمانونو کښې یا په ځمکی کښې (چه هیڅوک پری خبر نه وی) نو رابه ئې وړی الله (حساب کتاب ته) بیشکه الله ښه باریک لیدونکی ښه خبردار دی.

**تفسیر:** یعنی کوم شی یا کوم خصلت ښه وی یا بد که د اوری په اندازه وړوکی هم وی او فرض ئې کړی چه په کومی لوی غټی تیږی (ګټی) کښې یا د آسمانونو د پاسه یا د ځمکی په تیارو کښې ایښودل شوی وی هغه هم له الله تعالیٰ څخه پټ نشی پاتی کیدی، هر کله چه وخت راشی هغه به له هم هغه ځایه هر چیری چه اراده وکړی راحاضر کړی نو ځکه هر انسان ته لازمه او ضروری ده چه دغه خبری دی تر نظر لاندی ونیسی هر هغه کار چه په زرهاؤ پردو کښې دننه هم وشی هغه الله تعالیٰ ته حاضر او دی ورته ناظر دی لکه چه نیکی یا بدی چه په هر څومره پټ ځای کښې وکړی شی د هغی اثر ضرور څرګندیدونکی (ښکاره کیدونکی) دی او اهل النظر هغه بی تکلفه محسوسولی شی.

يٰبُنَيَّ أَقِمِ الصَّلٰوةَ وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنكَرِ

ای زوی ګوتیه زما قائموه (سم ودروه سره له تولو حقوقو) لمونځ او امر کوه (خلقو ته) په نیکی او منع کوه خلق له بدی نه

**تفسیر:** یعنی ته پخپله هم د الله تعالیٰ پر توحید او بندګئ قایم اوسه! او هم نورو ته نصیحت کوه چه ښی خبری زده کړی، او له بدو او خرابو خبرو څخه ځان وساتی!

وَاصْبِرْ عَلَىٰ مَآ أَصَابَكَ ۖ إِنَّ ذٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ ﴿١٧﴾

او صبر کوه په هغې سختئ چه رسیږی تاته (بالخاصه په امر او نهی کښې) بیشکه دغه (مذکوره نصائح) له مهمو مقصودی کارونو څخه دی.

تفسیر: یعنی په دنیا کښې هر هغه سختی، کړاوونه او تکلیفونه چه درپیښیږی چه هغه اغلباً د امر بالمعروف او نهی عن المنکر په سلسله کښې وی نو هغه په تحمل او اولوالعزمی سره په ځان وګاله (برداشت کړه)! او له سختیو او تکلیفونو څخه له سره مه ویریږه! ځکه چه له دغو شیانو څخه د کلمة الله د اعلاء په مقابل کښې ویریدل د زړورو او د عزم د خاوندانو کار نه دی.

وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ

او مه ګرځوه مخ خپل خلقو ته (له ډیره کبره بلکه ګوره دوی ته په تواضع سره)

تفسیر: یعنی په تکبر او غرور سره مه ګوره! خلق خوار، سپک او حقیر مه ګڼه! د متکبرانو په شان خبری اتری مه کوه! بلکه په رون تندی، او په خندا، خوښی او خوشالی له خلقو سره غږیږه!

وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ ﴿١٨﴾

او مه کوه تګ په ځمکه کښې په ناز او نخرو!، بیشکه الله نه خوښوی هر کبر کوونکی فخر کوونکی په «خلقو»

تفسیر: یعنی په غرور، تکبر، لوئی او لاپو د سړی څه قدر او عزت نه زیاتیږی بلکه د دی په عکس ذلیل، حقیر او سپک ښکاری که څوک مخامخ څه ورته ونه وائی، پسی شا خو خلق وریسی ډیر بد وائی او سپک ئی ګڼی.

وَاقْصِدْ فِي مَشْيِكَ وَاغْضُضْ مِن صَوْتِكَ ۚ إِنَّ أَنكَرَ الْأَصْوَاتِ لَصَوْتُ الْحَمِيرِ ﴿١٩﴾ ع

او میانه رو اوسه! په تګ خپل کښې (یعنی مه ډیر ګړندی او مه ډیر ورو ځه)

او ورو کړه غږ خپل بیشکه چه ډیر بد د ټولو غږونو خامخا غږ د خرو دی.

**تفسیر:** یعني تواضح، متانت، اعتدال او متوسط وضعیت ځان ته غوره او اختیار کړه. بې له ضرورت نه خبرې مه کوه! د خبرو په وخت کښې بې له ضرورت نه چغې مه وهه! که په لوړ(اوچت) غږ سره غږیدل څه کمال وی نو د خره غږ ته به خلقو ډیر اهمیت ورکاوه حال دا چه څه وخت چه خر هنګیږی هغه په غوږونو ډیر کریهه او بد لګیږی. ډیر ځله د انسان په زوره غږیدلو کښې هم داسې بې‌نظمي او بې ترتیبي پیښیږی. (ربط) د لقمان کلام تر دې ځای پورې تمام شو. وروسته له دې نه بیا د اصل مضمون ته عود کړی شوی دی. یعني د الله تعالیٰ عظمت، جلال، احسان او انعام راپه یادوی او د توحید او نورو فضائلو لوری ته مو متوجه کوی.

اَلَمْ تَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ وَاَسْبَغَ عَلَیْكُمْ نِعَمَهٗ ظَاهِرَةً وَّبَاطِنَةً ؕ

آیا نه وینئ تاسی (ای انسانانو) چه بیشکه الله مسخر کړی په کار اچولی دی تاسی ته هر هغه څه چه په آسمانونو کښې دی او هر هغه څه چې په ځمکه کښې دی او پوره کړی دی (الله) په تاسی نعمتونه خپل (هم) په ښکاره او (هم) په پټه

**تفسیر:** یعني د آسمان او ځمکې ګرد (ټول) مخلوقات ستاسی په کارونو کښې لګیا دی نو بیا تاسی ولې د هغه په کار نه لګیا کیږئ. او پوره کړی دی الله په تاسی نعمتونه خپل هم ښکاره هم په پټه ښکاره نعمتونه هغه دی چه په حواسو سره ئې ادراک کیږی یا بلا تکلفه په فهم او پوهه کښې راتلی شی، پټ نعمتونه هغه دی چه په عقل فکر، غور او دقت سره موندل کیږی. یا به له ظاهری ځنې مادی او معاشی او له باطنی ځنې روحانی او معادی نعمتونه مراد وی ګواکې د رسول ارسال، د کتاب نازلول، د نیکی توفیق ورکول ګرد (ټول) په باطنی نعمتونو کښې شامل دی.

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ یُّجَادِلُ فِی اللّٰهِ بِغَیْرِ عِلْمٍ وَّلَا هُدًی وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِیْرٍ ۝۲۰

او (ځینی) له خلقو هغه څوک دی چه جګړه کوی په (حق د) الله کښې بې له پوهی (د توحید څخه) او بې له (لاری د) هدایت او بې له کتاب روښان څخه

**تفسیر:** یعنی له داسی ظاهرو او باهرو نعمتونو او احسانونو سره ځینی خلق خپلې سترګی پټوی، د الله تعالیٰ په وحدانیت کښې یا د ده په شیونو او صفاتو کښې یا په احکامو او شرایعو کښې مباحثې او جګړې کوی او تش په بې سندو جګړو کښې سره نښلی. نه کوم علمی او عقلی اصول له هغوی سره شته، او نه د کوم برحق هادی څه هدایت او نه د کوم مستند او روښان کتاب حواله له خپله ځانه سره لری، تش د خپلو پلرونو او نیکونو ړوند تقلید له هغوی سره شته چه ذکر ئې په راتلونکی آیت کښې راځی.

**تنبیه:** شیخ الهند قدس الله سره العزیز د دغه آیت ترجمه داسی کړی ده. «او په خلقو کښې داسی هم شته چې جګړې کوی د الله په خبره کښې نه پوهه لری او نه بصیرت او نه روښان کتاب» او له دغی ترجمې څخه داسی معلومیږی چه غالباً محقق مترجم رحمة الله علیه له «علم» څخه په عقلی دول (طریقه) «پوهیدل» مراد کړی دی. او له «هدی» څخه ئې یو قسم خاص بصیرت مراد دی چه د ذوق له سلامتی، وجدان، ممارست، عقل او فکر څخه نشئت مومی. مطلب ئې داسی شو چه دغه خلق نه معمولی پوهه لری او نه د وجدانی بصیرت خاوندان دی، او نه روښان کتاب یعنی نه نقلی دلیل لری. دغه معنی دیره لطیفه او ښه ده مونږ د دی آیت لپاره کوم تقریر چه غوره او اختیار کړی دی هغه یوازې د آسانی په غرض کړی شوی دی.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَآ أَنزَلَ اللَّهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَآءَنَآ ۚ أَوَلَوْ كَانَ الشَّيْطَٰنُ يَدْعُوهُمْ إِلَىٰ عَذَابِ السَّعِيرِ ﴿٢١﴾

او کله چه وویل شی دوی ته چه متابعت وکړئ په صدق سره د هغه (قرآن) چه نازل کړی دی الله نو وائی دوی نه! بلکه متابعت کوو د هغه شی چه موندلی وو مونږ په هغه شی پلرونه خپل (نو وائی الله) آیا (متابعت کوی دوی د پلرونو) اګر که وی شیطان داسی چه بولی دوی (یا پلرونه د دوی) په طرف د عذاب د دوزخ (بلکه متابعت دی نه کوی).

**تفسیر:** یعنی که شیطان ستاسی پلرونه او نیکه‌ګان د دوزخ په طرف بیولی وی بیا هم تاسی په هم هغو پسی درومئ او په کوم ځای کښې چه هغوی لویدلی دی تاسی هم خپل ځانونه هم هغلته غورځوئ ؟

وَمَن يُسْلِمْ وَجْهَهُۥٓ إِلَى اللَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ ۗ

او هر څوک چه وسپاری مخ (ځان) خپل الله ته (او پری تفویض او توکل وکړی) حال دا چه دی نیکوکار وی نو په تحقیق ده منګولی خښې کړی دی په کړی مضبوطی باندی

**تفسير:** يعنی هر هغه چا چه په اخلاص سره د نيکی لاره غوره او اختياره کره او خپل ځان ئی الله تعالیٰ ته وسپاره نو وپوهيږه چه خپل لاس ئی په ډيری مضبوطی او کلکی کړۍ لګولی دی او ځان ئی پری ټينګ کړی دی تر هغه وخته پوری چه ده دغه کړۍ ټينګه نيولی وی نو له سره نه ښائی چه د لويدو کومه انديښنه ورته پيدا شي

وَإِلَى اللَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ ﴿٢٢﴾

او خاص الله ته دی عاقبت خاتمه د (ټولو) کارونو

**تفسير:** يعنی هر هغه چه دغه کړۍ مضبوطه ونيوله بالاخره د هم دغی کړۍ او سند په وسيله د الله تعالیٰ دربار او ديدار ته رسيږی او پاک الله د ده آخره خاتمه او انجام ښه کوی.

وَمَن كَفَرَ فَلَا يَحْزُنكَ كُفْرُهُ ۚ إِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ فَنُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٢٣﴾

او هر څوک چی کافر شو پس نه دی خپه کوی تا (ای محمده!) کفر د ده «ځکه چی» خاص مونږ ته دی بيا راتله د دوی په قيامت کښې پس خبر به کړو مونږ دوی په هغو اعمالو چی کړی ئی دی بيشکه چی الله ښه عالم دی په هغو خبرو چی په سينو (د دوی) کښې دی.

**تفسير:** يعنی تاسی خپله علاقه له پاک الله سره ټينګه او مضبوطه ولرئ! د هيچا د تکذيب او انکار پروا له سره مه کوئ! د منکرينو بيرته راتګ او رجوع هرومرو (خامخا) زمونږ په لوری ده په دغه وخت کښې به د دوی ټول عملونه بې له کموالی او زياتوالی د دوی په مخکښې ايښوول کيږی او هيڅوک به خپل هيڅ يو جرم له پاک الله څخه نشی پټولی ځکه چی الله تعالیٰ د زړونو په پټو خبرو او مخفی اعمالو هم خبر دی او هغه ګرد (ټول) به دوی ته ور وړاندی کړی.

نُمَتِّعُهُمْ قَلِيلًا ثُمَّ نَضْطَرُّهُمْ إِلَىٰ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴿۲۴﴾

نفع به ورکړو مونږ دوی ته (په دنیا کښې) لږ شانې بیا راولو دوی په ډیره ناچاری عاجزی سره په طرف د عذاب سخت (د دوزخ)

**تفسیر:** یعنی د لږو ورځو عیش، عشرت، بی فکری او بیغمی ده کله چې د دوی دغه نیته او مهلت ختم شی نو خورا ډیری سختی سزا ته به راښکودل شی او هیڅ به د دوی له واکه (اختیاره) نه وی پوره چې چیری وتښتی یا پټ شی

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ ۚ قُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿۲۵﴾

او قسم دی که وپوښتی ته دغه (کفار) چې چا پیدا کړی دی دغه آسمانونه او ځمکه نو خامخا وبه وائی دوی هرومرو (خامخا) چې الله (کله چې مقر شول دوی نو ای محمده!) ووایه توله ثناء خاص الله لره ده، بلکه زیاتره د دوی نه پوهیږی.

**تفسیر:** یعنی الحمد لله دغومره خو په خپلو ژبو اعتراف کوی چې د آسمانونو او د ځمکی پیدا کول بی له الله تعالیٰ نه د بل هیچا کار نشی کیدی نو بیا اوس کوم قسم خوبی پاتی شوه چې د ده په پاک ذات کښې نه وی موجوده؟ آیا د دغو عظیم الشان شیانو پیدا کول او بیا ئی په یو مضبوط او ټینګ نظام په کار اچول بی له اعلیٰ درجې علم او حکمت، زور او قوت امکان لری ؟ نو هرومرو (خامخا) د «**خالق السموات والارض**» په ذات کښې د تولو کمالاتو د موجودیت منل لازمیږی او دغه هم د ده د قدرت یوه نمونه ده چې تاسی غوندی مجرمینو او منکرینو باندی هم د خپل عظمت او قدرت اقرار او اعتراف کوی چې له دغه اقرار څخه وروسته تاسی ملزم ګڼل کیږئ یعنی کله چې ستاسی په نزد هم خالق یوازی هم هغه الله دی نو بیا ولی نور شیان مو خپل معبودان ګرځوئ ؟ خبره خو صافه او سمه ده خو سره له هغه ډیر کسان پری نه پوهیږی او دلته چې رسیږی بند پاتی کیږی.

لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ ﴿۲۶﴾

خاص الله له پاره دی هر هغه څه چې په آسمانونو کښې دی او په ځمکه

کښې دی (سره له آسمانونو او ځمکې ملکاً خلقاً عبیداً) بیشکه چې الله هم دی دی غني بې پرواه ډیره ثنا ورته ویلې شوی ده

**تفسیر:** یعنی هم هغسې چې د آسمانونو او د ځمکې پیدا کوونکی الله تعالیٰ دی هم داسې ټول هغه شیان چې په آسمانونو او ځمکه کښې دی ټول بلا استثنا بې د بل چا له اشتراکه د الله تعالیٰ مخلوق او مملوک دی. او تماماً د الله تعالیٰ محتاج دی او بالعکس پاک الله هیڅا ته اړ (مجبور) او محتاج نه دی. ځکه چې د وجود او د وجود د توابعو یعنی د ګردو (ټولو) کمالي صفاتو مخزن او منبع د ده ذات دی. د ده هیڅ یو کمال د بل چا څخه مستفاد نه دی. دی بالذات د ټولو عزتونو او محاسنو او ښیګڼو (فائدو) مالک دی نو بیا به دی بل چا ته ولې محتاج او اړ (مجبور) وي؟ او د چا به څه پروا لري ؟

وَلَوْ أَنَّمَا فِي الْأَرْضِ مِنْ شَجَرَةٍ أَقْلَامٌ وَالْبَحْرُ يَمُدُّهُ مِنْ بَعْدِهِ سَبْعَةُ أَبْحُرٍ مَّا نَفِدَتْ كَلِمَاتُ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٧﴾

او که چیرې هغه څه چې په ځمکه کښې دی له ونو څخه (هغه ټول) قلمونه شي او (سیاهي شي محیط) بحر مرسته (مدد) وکړی له ده سره پس له (تمامیدلو د اوبو) د ده او اوه (نور) بحرونه نو خلاص به نشي کلمات د الله بیشکه چې الله دی ښه غالب قوی (د احکامو په انفاذ) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی)

**تفسیر:** یعنی که د دنیا له ګردو (ټولو) ونو څخنې قلمونه جوړ کړی شي او دغه اووه موجوده ترخه بحرونه (سمندرونه) سیاهي (مرکب) تیار کړل شي او بیا د هم دغو سمندرونو په شان اووه نور سمندرونه هم د ده د کار د کومک او معاونت لپاره پیدا کړل شي او فرض ئې کړئ چې د ټول عالم انسانان له خپل قدرت او قوت سره سم هم په لیکلو لاسونه پورې کړی خو سره له دغه هم د الله تعالیٰ د کلمو د لیکلو د عهدې څخه دغه ټول نشي وتلی او د الله تعالیٰ د کمالاتو او جلال، عظمت او قدرت له اظهار څخه ګرد (ټول) سره عاجز او ناتوان پاتې شي، د لیکونکو عمرونه به تمام شي، قلمونه به په ډیرو لیکلو وسولیږی او مات شي، سیاهي به له ډیرو لیکلو څخه خلاصه شي، خو سره له دی به هم د الله تعالیٰ تعریف، توصیف محامد، محاسن او ثناء به ختم نشي. ریښتیا خبره خو هم دا ده چې محدود او متناهي قوتونه به څرنګه د الله تعالیٰ لامحدود او غیر متناهي صفات قید او ضبط کړی شي؟ **اللهم لا احصی ثناء علیک انت کما اثنیت علی نفسک.!**

مَا خَلْقُكُمْ وَلَا بَعْثُكُمْ إِلَّا كَنَفْسٍ وَّاحِدَةٍ ط

نه دی پیدا کول ستاسی او نه بیا ژوندی راپاځول ستاسی مګر داسی دی لکه پیدا کول او ژوندی کول د یوه نفس

**تفسیر:** یعنی د ټول جهان پیدا کول او د یوه انسان پیدا کول دواړه پاک الله ته یو شان سهل او آسان دی نه په دغه کښی څه اشکال او دقت او نه په هغه کښی څه سختی ورته پیښیږی په یوه «کن» سره هر شی ته چی اراده وکړی هم هغه کیږی بلکه د «کن» د لفظ په ویلو پوری هم څه موقوف نه دی مګر مقصد د دغه د «کن» د لفظ له تعبیر څخه محض زمونږ افهام او تفهیم مقصود او د مستمعینو د پوهولو لپاره یو عنوان دی. په واقع کښی د دی سره سم چی الله تعالیٰ اراده وکړی هم هغه مطلوبه شی سم د لاسه موجودیږی.

إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ ﴿٢٨﴾

بیشکه چی الله دی ښه اوریدونکی (د ټولو اقوالو) ښه لیدونکی (د ټولو احوالو).

**تفسیر:** یعنی څرنګه چی د یوه غږ آوریدل، یا د یو شی لیدل یا په یو وخت کښی د ټول جهان د شیونو لیدل الله تعالیٰ ته یو شان او برابر دی، هم داسی د یوه سړی وژل او ژوندی کول او د ګرد (ټول) جهان د ټولو موجوداتو وژل او ژوندی کول الله تعالیٰ ته برابر او مساوی دی او د الله جل جلاله د قدرت په مقابل کښی یو شان دی، بیا له دوهم ځلی ژوندی راپاځولو څخه وروسته په یوه وخت کښی د ټولو لومړنیو او وروستنیو د پخوانیو او اوسنیو د ګردو (ټولو) اعمالو د یوی یوی ذری لیدل او سنجول (غور کول)، او حساب او کتاب ئی سره پری کول هم ده ته ډیر سهل او آسان دی او ورته دغه اعمال هیڅ قسم سختی او جنجال نه پیښوی ځکه چی الله تعالیٰ زمونږ ګرد (ټول) اقوال اوری، او ټول افعال مو وینی او هیڅ یوه پټه او ښکاره خبره او حال تری پټ نه دی

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُولِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِي إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى

آیا نه وینی (ته ای مخاطبه بلکه وینی ئی) چی بیشکه الله ننباسی شپه (په کامل قدرت خپل سره) په ورځ کښې او ننباسی (الله) ورځ په شپه کښې او مسخر کړی په کار اچولی ئی دی تاسی ته لمر او سپوږمی هر یو (له دغو دواړو نه لکه نور سیارات) روان دی (په آسمان خپل کښې) تر ټاکلی (مقرر کړی) مودی پوری

**تفسیر:** د «مقرر وخت» څخه مراد قیامت دی، یا له لمر او سپوږمی څخه د هر یوه دوره ده ځکه چی د یوی دوری د پوره کیدلو څخه وروسته ګواکی دوی بیا له سره خپله دوره او تګ شروع کوی.

وَأَنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿٢٩﴾

او بیشکه الله په هر هغه څه چی تاسی ئی کوئ ښه خبر دی.

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ هغه قوت او قدرت ته چی له شپی څخه ورځ او له ورځی څخه شپه جوړوی او د لمر او سپوږمی په شان له خورا ډیرو لویو کراتو څخه د ادنا مزدورانو په شان کار اخلی له مرګ نه وروسته ستاسی بیا ژوندی راپاخول څه اشکال لری؟ او کله چی دی له هر لوی او وړوکی عمل څخه پوره واقف او ښه عالم دی نو بیا په حساب او کتاب کښې به الله تعالیٰ ته څه اشکال او سختی ورپیښه شی.

ذَٰلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ هُوَ الْحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدْعُونَ مِن دُونِهِ الْبَاطِلُ وَأَنَّ اللَّهَ هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ ﴿٣٠﴾

دغه (شامل معرفت کامل قدرت) له دی سببه دی چی بیشکه الله هم دی حق دی او بیشکه هغه (بتان) چی بولی (عبادت ئی کوی) دوی بی له دغه (الله هغه نه) حق نه دی او بیشکه الله هم دی ښه پورته ډیر لوی دی

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ دغه عظیمه شئون او قاهره صفات ځکه ذکر کړل شول څو آوریدونکی وپوهیږی چی د یوه الله تعالیٰ منل او د هم هغه واحد لاشریک عبادت کول هم هغه سمه لیاره ده. له دی نه خلاف هر څه چی وویل شی یا وکړل شی باطل او دروغ دی. یا به ئی دا مطلب وی

چې د الله تعالیٰ موجود بالذات او واجب الوجودتوب چې له ﴿ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَالْحَقُّ ﴾ څخه فهمیږی او د نورو باطل او هالک الذات توب له هغو سره دا خبره لازمه ده چې یواځې هم هغه الله تعالیٰ ته دغه شئون او صفات ثابت دی بیا هغه ذات ته چې دغه شئون او صفات ثابت دی نو هم هغه د الوهیت او معبودیت وړ (لائق) او مستحق دی نو د بنده انتهائی عجز او تذلل چې د هغه نوم عبادت دی خاص هم هغه ته شائی چې ډیر پورته عظیم‌القدرت او په هر څا غالب دی.

اَلَمْ تَرَ اَنَّ الْفُلْكَ تَجْرِیْ فِی الْبَحْرِ بِنِعْمَتِ اللّٰهِ لِیُرِیَكُمْ مِّنْ اٰیٰتِهٖ ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ﴿۳۱﴾

آیا نه وینې ته چې بیشکه (دا) بیړی (جهاز) تګ کوی په بحر کښې په نعمت (فضل) د الله دپاره د دې چې وښیې تاسې ته له دلائلو «قدرت» د ده ، بیشکه په دغې (بیړی او بحر) کښې خامخا ډیر دلائل (د قدرت) دی دپاره د هر ډیر صابر ډیر شاکر (په آفتونو او نعمتونو).

**تفسیر:** یعنې جهازونه او بیړی ډیر ثقیل او درانه بارونه وړی او د الله تعالیٰ په قدرت، فضل او مرحمت څرنګه د سمندر موجونه (څپې) سره څیروی او پکښې ځی؟ یعنې د دغه بحری سفر په احوالو او حوادثو کښې له غور کولو څخه انسان ته د صبر او شکر ډیر مواقع په لاس ورځی. کله چې طوفان (څپان) پورته شی او جهاز د طوفان په څپو کښې ګیر شی او له هری خوا له لویو پیښو او حوادثو سره مخامخ شی نو دغه وخت د لوی صبر او تحمل وخت او کار دی. او کله چې الله تعالیٰ دوی د مرګ او ژوند له دغه کشمکش او ربړونو (تکلیفونو) څخه صحیح او سالم وباسی نو حتمی او ضروری ده چې د الله تعالیٰ د دغه احسان او مرحمت شکر اداء کړی!

وَاِذَا غَشِیَهُمْ مَّوْجٌ كَالظُّلَلِ دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِیْنَ لَهُ الدِّیْنَ ۚ۬ فَلَمَّا نَجّٰىهُمْ اِلَى الْبَرِّ فَمِنْهُمْ مُّقْتَصِدٌ ؕ

او کله چې لاندې کړی دغه (کفار) یو موج لکه وریځې نو بولي دوی الله په داسې حال کښې چې خالص کوونکي وی دوی خاص الله ته (د) دین خپل، پس کله چې نجات ورکړی دوی ته الله طرف د وچې ته نو ځینې د دوی ولاړ وی په (هم هغې) لاری سمې

**تفسیر:** پاس ئی په دلائلو او شواهدو سره دغه خبره ښودلی وه چی د یوه خدای منل صحیح دی او د دی عقیدی او مفکوری په خلاف نوری گردی (تولی) خبری دروغی او غلطی دی. دلته ئی دغه راوښودل چی د طوفانی موجونو او څپو (چپو) له ویری دیر سخت او غلیظ مشرک هم په دیر اخلاص او عقیدی سره د الله تعالیٰ په دربار کښی دعاء او استغفار کوی او تری خپل نجات او حیات غواړی نو معلوم شو چی د انسان ضمیر او د فطرت اصلی غږ هم دغه دی او باقی تول جعلی، ساختگی، موهوم او چتی (بیکاره) شیان دی.

پس هر کله چی پاک الله دوی له طوفان (څپان) نه روغ رمټ وچی ته راوباسی نو دیر لږ کسان داسی دی چی د اعتدال او توسط په لاره قایم پاتی کیږی، که نه زیاتره څنگه چی له بحر څخه د باندی پل کیږدی بیرته په خپلو هم هغو شرارتونو لاس پوری کوی. شیخ الهند رحمة الله د (فمنهم مقتصد) ترجمه داسی کړی ده «نو ځینی وی له دوی څخه په منځنی حال باندی» حضرت شاه صاحب لیکی «یعنی هغه حال چی د خوف په وخت کښی ؤ اوس هغه حالت په هیڅ یوه کښی نشته مگر هغه وضعیت بیخی تری هیر شوی هم نه دی. داسی کسان هم دیر لږ دی. که نه زیاتره د قدرت له معاونته منکریږی او د خپل نجات او خلاصون راز راز (قسم قسم) تدبیرونه لتوی یا له کوم ارواح یا نورو ځنی استمداد غواړی.

وَمَا يَجْحَدُ بِآيَاتِنَآ إِلَّا كُلُّ خَتَّارٍ كَفُورٍ ﴿٣٢﴾

او انکار نه کوی له دلائلو د قدرت زمونږ مگر هر هغه چی دیر عهد ماتوونکی غدار زیات ناشکره وی

**تفسیر:** یعنی اوس لږه شیبه (لحظه) پخوا ئی د طوفان له خوف او ویری څخه کوم قول او قرار چی له الله تعالیٰ سره تړلی ؤ هغه بیخی غلط او دروغ ثابت شو، څو ورځی ئی هم د ده د هغه انعام او احسان حق ونه مانه او دومره ژر د قدرت له دلائلو ځنی منکر شو.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمْ وَٱخْشَوْاْ يَوْمًا لَّا يَجْزِي وَالِدٌ عَن وَلَدِهِۦ وَلَا مَوْلُودٌ هُوَ جَازٍ عَن وَالِدِهِۦ شَيْـًٔا ۚ

ای خلقو! وویریږئ تاسی (تول له عذابه) د رب خپل او وویریږئ تاسی له هغی ورځی چی نه به شی دفع کولی عذاب هیڅ پلار له زوی خپل او نه هیڅ زوی (داسی وی) چی هغه دفع کوونکی شی له پلار خپل څخه کوم شی (څه عذاب)

**تفسیر:** د طوفان په وخت کښې د جهاز مسافران سخت پریشان، وارخطا وی او له هر انسان سره یوازی د خپل ځان د خلاصون فکر او اندیښنه وی، خو سره له هغه هم مور او پلار له خپلو اولادو، او اولاد له خپل مور او پلار څخه بیخی غافل او بی پروا نه وی. او هر یو د بل د نجات او خلاصی او مرستی (مدد) په فکر او چرت (خیال) کښې وی بلکه ډیر کله د والدینو شفقت غواړی چی هر راز (قسم) زحمت او مصیبت په خپل ځان واخلی چی خپل اولاد له هغه مصیبت څخه وژغوری (وساتی). لیکن د دی په عکس یوه داسی ویروونکی او هولناکه ورځ راتلونکی ده چی په هغی کښې به له هر طرفه هم دغه د «نفسی! نفسی!» غږ راپورته کیږی. نه اولاد او نه والدین بلکه هیڅوک به داسی یو ایثار او شفقت ونشی کړی چی د بل لږ څه مصیبت په ځان واخلی او بالفرض که دی وغواړی چی د خپل کوم عزیز لږ څه زحمت په ځان واخلی خو څوک د ده دغی غوښتنی او مطالبی ته څه اهمیت او قیمت نه ورکوی. نو په هر انسان لازم دی چی لا له اوسه د هغی ورځی په فکر او اندیښنه کښې واوسی! او د هغی لپاره توښه برابره کړی! او زیار (کوشش) وکړی څو د الله تعالیٰ له قهر او غضب څخه مامون او مصون پاتی شی که نن دوی د سمندر له طوفانه روغ رمټ ووتل نو سبا خو دوی د حشر له ډګر له ځنی په هیڅ صورت نشی وتلی.

---

إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِٱللَّهِ ٱلْغَرُورُ ﴿٣٣﴾

---

بیشکه وعده د الله رښتیا ده (د بعث، د حساب، د جزا وعده) پس نه دی غره کوی تاسی خامخا دغه ژوندون لږ خسیس! او نه دی غره کوی خامخا تاسی په (عفو او کرم د) الله هیڅ غره کوونکی

---

**تفسیر:** یعنی هغه ورځ یقیناً او قطعاً راتلونکی ده. او دغه د پاک الله داسی قاطعه او نافذه وعده ده چی له سره په هغی کښې هیڅ لاندی باندی او وړاندی او وروسته والی نشی راتلی نو نه ښائی چی تاسی د دنیا په دغو څو ورځو باغ او بهار، عیش او عشرت، زرق او برق او رونق تیروځئ که نه تل به هم داسی له عقبیٰ څخه بی برخی او ناامیده پاتی شئ او داسی ئی مه ګڼئ چی هر څوک چی دلته په آرام وی نو بی له ایمان او صالح عمل څخه هلته به هم په آرامی او هوسائی (راحت) کښې وی. د تګ شیطان له مکر او فریب او اغواء څخه تل هوشیار او ویښ اوسئ! چی شیطان مو د الله تعالیٰ په نامه هم غولوی او داسی درته وائی څه خانه! بیغمه خپلی چرچی او مزی کوه! پاک الله غفور او رحیم دی ښه په ګناهونو او خطاؤ ځان موړ کړه! او له سره تر پایه په دغه ډنډ کښې ځان ډوب کړه کله چی زوړ او سپین ږیری شوی نو بیا یو ځلی له دغو ګردو (تولو) څخه توبه وباسه! پاک الله به دی وبښی. که ستا په تقدیر کښې جنت لیکلی وی نو هر څومره ګناهونه چی هم وکړی بالاخر به جنت ته ځی که په تقدیر کښې دی دوزخ لیکلی شوی

وی نو په هیڅ ډول (طریقه) ته خپل ځان له دوزخه نشی خلاصولی نو بیا د څه لپاره په دنیا کښی چړچی او مزی نه کوی ؟

إِنَّ اللَّهَ عِندَهُۥ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِي نَفْسٌۢ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ ﴿٣٤﴾

بیشکه الله خاص هم ده ځخه دی علم (د قیام) د قیامت او نازلوی الله باران (او د نزول په وخت ئی هم علم لری) او معلوم دی الله ته هغه شی چی په ارحامو (د میندو په نسونو) کښی وی (نرتوب او ښځه توب ئی) او نه پوهیږی هیڅ نفس چی څه کار به کوی سبا، او نه پوهیږی هیڅ نفس چی په کومه ځمکه کښی به مری بیشکه الله دی ښه عالم (په دغو شیانو او نورو تولو اقوالو) ښه خبردار (په تولو احوالو) دی.

**تفسیر:** یعنی قیامت هرومرو (خامخا) راتلونکی دی. د دی علم یوازی له الله تعالیٰ سره دی دغه نه ده معلومه چی دغه دنیوی لویه کارخانه به کله ویجاړه او دړی وړی کیږی ؟ انسانان په دنیوی عیش او عشرت، ښائست او مؤقتی تازګیځ نازیږی او پکښی مزی او چړچی کوی آیا دوی په دغه نه پوهیږی چی دغه دنیا په دی چی فانی ده فی الحال هم دغه دنیا او هم ئی تول اسباب او وسایل د الله تعالیٰ په واک (اختیار) او قدرت کښی دی د ځمکی تول رونق او مادی برکت چی ستاسی د خوښی خوشالی مدار دی په آسمانی باران موقوف دی که دوه دری کاله باران ونشی نو له هر طرفه به خاوری او دوړی پورته کیږی، نه به د ژوندانه څه سامان پاتی شی او نه به د راحت څه اسباب. بیا تعجب دی چی انسان د دنیا په زینت، ښائست او سینګار ولی غولیږی؟ او هغه لوی ذات د څه لپاره هیروی؟ چی د خپل رحمت په باران سره ئی ورته ښائست او سمسورتیا او رونق مرحمت کړی دی. چاته څه معلومه ده چی په دنیا کښی به د ده د دنیوی عیش او عشرت برخه څومره وی؟ ډیر خلق زیات کوشش کوی او زیار (محنت) کوی او له ډیرو ربړونو (تکلیفونو) له ګاللو (برداشت کولو) ځخه مری لیکن په خپل ژوند کښی یی له سره هوسائی (خوشالی) او آرام نه په برخه کیږی. بالعکس ځینو نورو ته بی له ربړ (تکلیف) او زیار (محنت) ځخه دولت او راحت ور په برخه کیږی د دغسی حالاتو او واقعاتو له لیدلو سره سره هم هر هغه انسان چی په دینی او دنیوی معاملاتو کښی د الله تعالیٰ په تقدیر اعتماد او اطمینان لری، په دینی او دنیوی امورو کښی لږ څه هم په جداوجهد او سعی او کوشش کښی

قصور او لندون نه کوی او سره له دی چی په تقدیر پوره داډ او قناعت لری په ریاضت او مجاهدت کښی هم لږ څه مساهلت نه کوی هغه پوهیږی چی انسان لره تدبیر په کار دی ځکه چی ښه تقدیر عموماً د هم دغه کامیاب تدبیر په ترڅ کښی څرګندیږی (ښکاره کیږی) دغه علم په واقع یوازی او یوازی الله تعالیٰ ته حاصل دی چی زمونږ تقدیر به څرنګه وی؟ او زمونږ له لاسه به صحیح تدبیر ظاهریږی که نه؟ که مونږ د هم دغی معاملی رعایت په دینی امورو کښی لا په ښه شان سره وکړو نو د شیطان د چل او فریب په لومه او دام کښی به له سره ونه نښلو بیشکه چی جنت او دوزخ هر ځای چی زمونږ په برخه کیږی هغه د تقدیر په اساس دی او د هغه علم له پاک الله سره دی مګر عموماً د ښو او د بدو د تقدیر څیری د ښو یا د بدو تدبیرونو په آئینه کښی لیدلی کیږی نو ځکه مونږ د تقدیر په حواله او اساس تدبیر نشو پریښودی ځکه چی دغه خبره خو هیچا ته نه ده معلومه چی د الله تعالیٰ په علم کښی کوم یو سړی سعید یا شقی، جنتی یا دوزخی، غنی یا فقیر یا نور دی؟ نو ظاهری عمل او تدبیر داسی یو شی دی چی د هغه له لیدلو څخه عادتاً مونږ ته د تقدیر له نوعیت نه لږ څه معلومات راحاصلیږی که نه د دغی خبری حقیقی علم خو یوازی له الله تعالیٰ سره دی چی د ښځی په ګیډه کښی هلک دی که جینۍ ؟ او وروسته له ځیږیدلو څخه به د هغه عمر څومره وی ؟ روزی به ئی ارته وی که تنګه ؟ سعید دی که شقی ؟ د هم دی په طرف ئی په ﴿ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ ﴾ کښی اشاره کړی ده، پاتی شوه د شیطان دغه تګی او برګی چی فی الحال خو په دنیا کښی چرچی او مزی کوه! بیا وروسته توبه وباسه! او ښه سړی شه! د دی ځواب ئی په ﴿ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا ﴾ الآیة ـ کښی ورکړی دی یعنی هیڅوک په دی باندی نه دی خبر چی دی به سبا څه کوی ؟
او د څه کولو له پاره آیا دی به ژوندی پاتی کیږی که نه ؟ او کله به مری ؟ او چیری به مری ؟ نو بیا دی به په کوم اعتبار او اعتماد سره د نن ورځی د بدی تدارک سبا هرومرو (خامخا) وکړی شی او د توبی توفیق به ضرور ومومی په دغو شیانو او نورو ګردو (تولو) امورو پواځی علیم او خبیر الله تعالیٰ ښه پوه او خبر دی.

**تنبیه:** په یاد ئی ولرئ! چی مغیبات یا به د احکامو له جنسه وی یا به د اکوانو له جنسه وی. بیا غیبی اکوان زمانی وی یا مکانی او زمانی د ماضی، مستقبل او حال په اعتبار په دری دوله (قسمه) ویشل شوی دی له دغو څخه د غیبی احکامو کلی حکم رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورکړی شوی دی ﴿ فَلَا يُظْهِرُ عَلَىٰ غَيْبِهِ أَحَدًا إِلَّا مَنِ ارْتَضَىٰ مِن رَّسُولٍ ﴾ الآیة ـ (الجن ۲ رکوع ۲۶ـ۲۷ آیت (۲۹) جزء چی د هغه د جزئیاتو تفصیل او تبویب د امت اذکیاؤ کړی دی او د غیبیه ؤ اکوانو د کلیاتو او د اصولو علم الله تعالیٰ د خپل ځان له پاره خاص کړی دی هو! د هغو په منتشره ؤ جزئیاتو ئی دیرو خلقو ته سم له هغو قوتونو او استعدادونو اطلاع ورکړی ده او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته هم له دی نه داسی دیره وافره او عظیم الشانه برخه ور رسیدلی ده چی اندازه ئی بیخی نشی کیدی. خو سره له دی هم د غیبیه ؤ اکوانو کلی علم له رب العزت سره مخصوص دی په دغه آیت کښی چی دا پنځه شیان مذکور دی په احادیثو کښی ئی دغو ته

«مفاتیح الغیب» ویل شوی دی چی د هغو کلی علم پرته (علاوه ) له الله څخه بل هیچا ته نشته. په حقیقت کښی په دغو پنځو شیانو کښی د غیبیه ؤ اکوانو تولو انواعو ته اشاره وشوه. په «بای ارض تموت» کښی مکانیه غیوب په ﴿ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا ﴾ کښی د مستقبله زمانیه ؤ غیوب او په ﴿ مَا فِي الْأَرْحَامِ ﴾ کښی د حالیه زمانیه ؤ غیوب او په «ینزل الغیث» کښی غالباً په ماضیه زمانیه ؤ غیوب تنبیه ده. یعنی کله چی باران راځی او وورېږی معلومیږی لیکن دغه خبره هیچا ته نه ده معلومه چی پخوا له باران څخه خرنگه اسباب او وسایل سره راغوند شوی دی چی د هغو په اثر، پوره په هم هغی تاکلی (مقرر کړی) نیتی او ځای او موقع کښی په هم هغه مقدار او اندازه باران وشو. مور خپل وړوکی په خپله گیډه کښی گرځوی مگر په دی باندی نه پوهیږی چی دغه د دی په گیډه کښی هلک دی که جینۍ ؟ انسان غواړی چی په راتلونکو حالاتو ځان پوه کړی مگر په دی نه پوهیږی چی دی به پخپله سبا څه کار وکړی؟ او د ده مرگ چیری واقع کیږی ؟ له دغه جهل، ناپوهی او بیچاره‌گی سره د تعجب ځای دی چی په دنیوی ژوندون مفتون او مین کیږی او خپل حقیقی خالق او هغه لویه ورځ بیخی هیروی او له یاده ئی وباسی کله ئی چی د الله تعالیٰ لوی دربار ته په راښکودلو سره حاضروی. په هر حال د دغو پنځو شیانو له ذکر کولو سره په تولو غیبیه ؤ اکوانو د کلی علم په طرف اشاره کول دی او حصر نه دی مقصود. او اغلباً په ذکر کښی به د دغو پنځو شیانو تخصیص د دی له امله (وجی) شوی وی چی کوم سائل به د هم دغو پنځو شیانو په نسبت سوال کړی وی چی د هغه په ځواب کښی هم دغه آیت نازل شوی دی. لکه چی په حدیث کښی راغلی دی. د علم الغیب په نسبت پخوا له دی نه په سورت «الانعام» او اوس په سورت «النمل» کښی هم ځینی نور معلومات لیکلی شوی دی هلته دی وکتل شی.

**«تمت سورة لقمان بمنه وکرمه»**

---

«سورة السجدة مکیة الا من آیة (۱٦) الی غایة آیة (۲۰) فمدنیة وهی ثلاثون آیة وثلاثة رکوعات»

« رقم تلاوتها (۳۲) تسلسلها حسب النزول (۷۵) نزلت بعد سورة «المؤمنون»

«د السجدة سورت مکی دی. پرته (علاوه) له (۱٦) آیت څخه تر آخر د (۲۰) آیت چی مدنی دی (۳۰) آیتونه او (۳) رکوع گانی لری»

«په تلاوت کښی (۳۲) او په نزول کښی (۷۵) سورت دی وروسته د «المؤمنون» له سورت څخه نازل شوی دی»

---

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

الٓمٓ ۝١ تَنزِيلُ ٱلْكِتَٰبِ لَا رَيْبَ فِيهِ مِن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ۝٢

نازلیدل د (دغه) کتاب (قرآن) چی نشته هیڅ شک په دغه کښی له (جانبه) د رب د عالمیانو دی

**تفسیر:** بی شکه دغه مقدس کتاب رب العالمین نازل کړی. په دغه کښی نه څه شک شته او نه شبهه. او نه د فریب او تیرویستلو ځای دی. لیکن کفار دا خبره نه منی چی راغلی دی دا قرآن له طرفه د الله تعالیٰ.

أَمْ يَقُولُونَ ٱفْتَرَىٰهُ ۚ بَلْ هُوَ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ لِتُنذِرَ قَوْمًا مَّآ أَتَىٰهُم مِّن نَّذِيرٍ مِّن قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ ۝٣

آیا وائی (دغه کفار) له خپله ځانه ئی جوړ کړی دی دا (قرآن محمد داسی نه دی) بلکه هم دغه (قرآن) حق دی (نازل شوی دی) له جانبه د رب ستا چی ویروی ته (په قرآن سره) هغه قوم چی نه دی راغلی دوی ته هیڅ ویروونکی پخوا له تانه (تر اسمٰعیل علیه السلام پوری) دپاره د دی چی سمه لاره ومومی دوی (په سبب د ویرولو ستا).

**تفسیر:** یعنی د هغه کتاب په باب کښی چی اعجاز او حقانیت ئی دومره ښکاره او واضح دی چی د هیڅ شک او شبهی ځای پکښی نشته آیا د هغه په نسبت کفار داسی اظهار کوی چی رسول الله دغه قرآن له خپله ځانه جوړ کړی دی او معاذالله د لویو دروغو نسبت پاک الله ته کوی ؟ نو دغه د دوی انتهائی لجاجت، گستاخی او سپین سترگی ده چی په داسی واضح او روښانه بیان کښی هم له خپله ځانه شبهی پیدا کوی. که دوی لږ څه غور او انصاف کولی نو دوی ته به معلومه شوی وی چی په رښتیا سره دغه کتاب د پاک الله له طرفه راغلی دی او ته کوشش کوی چی د هغه په وسیله یو داسی قوم ویښ او هوښیار او په سمه لاره ئی راولی چی له څو پیړیو راپه دیخوا په دوی کښی ویښوونکی نبی نه دی مبعوث شوی دغه خبره د غور او فکر کولو وړ (لائق) ده چه انسان له خپله ځانه داسی یو شی جوړوی او خلقو ته ئی وړاندی کوی چی د هغه مثل یا قوی غوښتنه په محیط او ماحول کښی موجوده وی په دغسی یو ملک کښی د داسی یوی غټی خبری له خولی څخه ویستل چی د خلقو د سل هاؤ کلونو د مسخ شوی ذهنیت او مذاق څخه

غلطه او بیخی مخالفه وی او د هغی د قبول ډیره ادنیٰ قوه او استعداد هم ظاهراً په هغو کښی نه وی د کوم پوه او عاقل انسان کار له سره نشی کیدی هو! که د الله تعالیٰ قاهره قدرت کوم انسان په دغسی یو سخت او مشکل کار مامور کړی هغه بیله خبره ده. پس نبی الامی صلی الله علیه وسلم چی د نورو خلقو په نسبت د ده د عقل په زیاتوالی او پوخوالی باندی هغه کسان هم قایل دی چی (معاذالله) ده ته ئی مفتری ویل که کومه خبره ئی له خپله ځانه جوړوله او خلقو ته ئی اوروله نو یقیناً، داسی خبری به ئی راوړی وی چی هغه به له عربی فضا سره مطابقی او له عمومی جذباتو سره به موافقی او د هغی امثال او اشباه به د دوی په شاو خوا کښی زیاتی موندلی کیدلی هم دغه خبره یو پوه او انصاف خوښوونکی انسان متیقن کولی شی چی بیشکه محمد صلی الله علیه وسلم په خپله خوښه دغسی یو لوی او مهم کار ته اقدام نه دی کړی او نه هغه کلام چی ده راوړی دی د ده تصنیف دی.

---

اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَیْنَهُمَا فِیْ سِتَّةِ اَیَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰی عَلَی الْعَرْشِ ؕ

---

الله هغه (مطلق قادر) دی چی پیدا کړی ئی دی آسمانونه او ځمکه او هر هغه چی په منځ د دغو دواړو کښی دی په (مقدار د) شپږو ورځو کښی بیا استوا ئی وکړه په عرش باندی (هم هغسی چی لائقه وه له شانه د الله سره نو ایمان راوړی پری)،

---

**تفسیر:** د «استواء» بیان د «الاعراف» په (۷) رکوع کښی تیر شوی دی هلته دی بیا ولوستل شی!

---

مَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّلِیٍّ وَّلَا شَفِیْعٍ ؕ اَفَلَا تَتَذَكَّرُوْنَ ④

---

نشته تاسی لره (ای کفارو) غیر له الله هیڅ دوست او نه شفاعت کوونکی (چی عذاب درڅخه دفع کړی)، آیا پس نه اخلئ پند (په دغه وعظ)

---

**تفسیر:** یعنی غور او فکر نه کوئ! د الله تعالیٰ د پیغام او د ده د رسول صلی الله علیه وسلم د دروغجنولو څخه وروسته به تاسی چیری ځئ ؟ په ګردو (تولو) آسمانونو او ځمکه کښی له فرشه تر عرشه پوری د الله تعالیٰ حکومت دی. که ونیولی شوئ نو بی د هغه د اجازی او رضاء به مو هیڅ څوک څه حمایت او سپارښت ونشی کړی او نه به داسی کوم حامی او سپارښت کوونکی

ومومئ! او الله تعالیٰ داسی مطلق قادر دی چی

يُدَبِّرُ الْأَمْرَ مِنَ السَّمَآءِ إِلَى الْأَرْضِ ثُمَّ يَعْرُجُ إِلَيْهِ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ أَلْفَ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ ﴿٥﴾

تدبیر کوی (او نازلوی) امر کار له آسمانه ځمکی ته (تر ورځی د قیامت پوری) بیا بیرته خیژی هغه کار ده ته په هغی ورځی کښی چی ده اندازه د هغی (ورځی) زر کاله له هغو «دنیوی وختونو» چی ئی شمیرئ تاسی،

**تفسیر:** د لویو کارونو او خورا (ډیرو) مهمو انتظاماتو له پاره حکم له عرش عظیم څخه مقرر او نازلیږی تول حسی، معنوی، ظاهری او باطنی اسباب له اسمانونو او ځمکی څخه راجمع کیږی بیا د هغه په انصرام (سر ته رسولو) کښی مشغول او لګیا کیږی بالاخر هغه کار او انتظام د الله تعالیٰ په مشیت او حکمت تر مودو پوری جاری پاتی کیږی، بیا له یوی اوږدی زمانی څخه وروسته پای (آخر) ته رسیږی په دغه وخت کښی د الله تعالیٰ له خوا بل دول (طریقه) حکم نازلیږی. لکه چی د لویو لویو انبیاؤ اثر تر پیړیو پیړیو پوری پاتی دی، یا په کوم لوی قوم کښی سرداری او مشرتوب تر نسلونو نسلونو پوری جاری وی. هغه زر کاله د الله تعالیٰ په نزد یوه ورځ ده (موضح په لږ تغیر) مجاهد رحمة الله علیه وائی چی «الله تعالیٰ د زرو کلونو انتظامونه او تدبیرونه پرښتو ته القا کوی او دغه موده د ده په نزد یوه ورځ ده، بیا هر کله چی پرښتی هغه پای (آخر) ته ورسوی او تری خلاصی ومومی بیا د نورو راتلونکو زرو کلونو انتظامونه هغوی ته القاء کوی هم دغه سلسله به تر قیامت پوری تسلسل او دوام لری» ځینی مفسرین د دغه آیت مطلب داسی بیانوی چی «د الله تعالیٰ حکم د آسمانونو له پاسه تر ځمکی پوری رسیږی بیا هر هغه کاروائی چی د هغه په متعلق دلته کیږی هغه د اعمالو په دفتر کښی د درج کیدلو له پاره پاس خیژی چی د دنیا د آسمان په محدب واقع دی. او له ځمکی څخه د هغه ځای فاصله د انسان په متوسط تګ سره د یو زر کاله لیاره ده چی د الله تعالیٰ په نزد هغه د یوی ورځی لیاره تاکلی (مقرر کړی) شوی ده. مسافه خو هم دغومره ده دغه خو بیله خبره ده چی پرښته هغه په یوه ګړی کښی وهی، یا له دی نه هم په لږه موده کښی وررسیږی.» ځینی نور مفسرین داسی معنی کوی «د کوم کار د کولو اراده چی پاک الله وکړی د هغه د مادیو او اسبابو سلسله زر کاله پخوا شروع کوی بیا هغه له بالغه حکمت سره سم په مختلفو ادوارو کښی تیریږی او مختلف ادوار او صورتونه ځان ته اختیاروی او ورو ورو د خپل کمال انتها ته رسیږی په دغه وخت کښی کومی نتیجی او آثار چی له هغه څخه څرګندیږی (ښکاره کیږی) د ربوبیت دربار ته د وړاندی کیدلو له پاره پورته کیږی» د ځینو نورو په نزد له «یوم» څنی «یوم

القیامت» مراد دی. یعنی الله تعالیٰ له آسمانونو څخه نیولی تر ځمکی پوری د تولی دنیا او مافیها انتظام کوی، بیا یو داسی وخت هم راتلونکی دی چی دغه ګرده (توله) قصه به پای (آخر) ته ورسیږی او د ګردو (تولو) شیانو رجوع به پاک الله ته وشی او تول به د خپلی وروستی فیصلی لپاره الله تعالیٰ ته وړاندی شی چی هغه ته د قیامت ورځ ویل کیږی.
د قیامت یوه ورځ د زرو کلونو په اندازه ده. په هر حال ځینو «فی یوم» له «یدبر» سره او ځینو له «یعرج» سره متعلق کړی دی او ځینو د «تنازع الفعلین» په صورت منلی دی. والله اعلم.

ذٰلِكَ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿٦﴾

هم دی (خالق او د امورو مدبر) عالم دی په هر پټ او ښکاره ښه غالب قوی دی (په تقدیر) ښه مهربان دی (په فرمان وړونکو باندی)

**تفسیر:** یعنی د داسی اعلیٰ او عظیم الشان انتظام او تدبیر قایمول د هغه پاک ذات کار دی چی په هر یو پټ او ښکاره شی علیم او خبیر دی او ډیر زبردست او نهایت مهربان دی.

الَّذِيْٓ اَحْسَنَ كُلَّ شَيْءٍ خَلَقَهٗ وَبَدَاَ خَلْقَ الْاِنْسَانِ مِنْ طِيْنٍ ﴿٧﴾ ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهٗ مِنْ سُلٰلَةٍ مِّنْ مَّآءٍ مَّهِيْنٍ ﴿٨﴾ ثُمَّ سَوّٰىهُ وَنَفَخَ فِيْهِ مِنْ رُّوْحِهٖ

هغه الله چه ښایسته کړی ئی دی هر شی چی پیدا کړی ئی دی هغه (هر موجود بالخاصه انسان) او شروع کړی ئی دی پیدایښت د انسان (یعنی آدم) له ختی څخه بیا ئی پیدا کړ نسل اولاد د ده له خلاصی له اوبو ضعیفو حقیرو څخه بیا ئی برابر کړ (قالب د) هغه او پو (داخل) ئی کړ په دغه (قالب) کښی له روح خپل څخه (چی مخلوق د ده دی)

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ د انسان نسل او اولاد له خلاصی له اوبو ضعیفو حقیرو څخه چی د خورا ډیرو غذاګانو عصاره او خلاصه ده بیا ئی برابر کړ قالب د هغه یعنی شکل، صورت او اعضاء ئی موزون او متناسب خلق او موجود کړی دی. او پو، داخل، ئی کړ په دغه قالب کښی روح خپل حضرت شاه صاحب لیکی چی «ګرد (تول) مخلوقات د ده مال دی مګر هر چاته ئی چی ډیر پټ او عزت ورکړی دی هغه ئی خپل بللی دی لکه چی وائی ﴿ اِنَّ عِبَادِيْ لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطٰنٌ ﴾ حال دا چی تول د الله تعالیٰ بندګان دی لکه چی الله تعالیٰ ویلی دی ﴿ اِنْ كُلُّ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ اِلَّآ اٰتِي الرَّحْمٰنِ عَبْدًا ﴾ نو د انسان روح د عالم الغیب له طرفه راغلی

دی او یوائحی له خاورو اوبو، او نورو څخه نه دی جوړ شوی که نه د الله تعالیٰ د روح څخه که هغه مطلب واخیست شی لکه چی د انسانی روح څخه مطلب اخیست شوی دی نو ښائی چی دغه روح په کوم بدن کښی وی که په بدن وی، ترکیب راځی، حال دا چی د ترکیب له وجود څخه حدوث پیدا کیږی او د الله تعالیٰ پاک او منزه ذات او صفات له دغو شیانو څخه پاک او منزه دی (موضح په لږ تغیر سره).

وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ ۚ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴿٩﴾

او وئی گرځول (در ئی کړل) تاسی ته (ای د آدم اولاده) غوږونه او سترگی (چی پری اوریځ! او وینئ)! او زړونه (چی عقل او فکر پری کوئ) خو سره د دغو نعمتونو بیخی لږ شکر کوئ تاسی!

**تفسیر:** د دغو نعمتونو شکر دا ؤ چی پخپلو سترگو مو د ده تکوینی آیتونه په غور سره کتلی وی او پخپلو غوږونو مو د ده تنزیلی آیتونه په پوره توجه او شوق سره آوریدلی وی. او په خپلو زړونو سره مو د دغو دواړو په پوهیدلو او غور او فکر کولو کښی پوره کوشش او زیار (محنت) ایستلی وی. او وروسته له پوهیدلو مو پری عمل کړی وی مگر تاسی خلق ډیر لږ شکر اداء کوئ.

وَقَالُوٓا۟ أَءِذَا ضَلَلْنَا فِى ٱلْأَرْضِ أَءِنَّا لَفِى خَلْقٍ جَدِيدٍۭ ۚ
بَلْ هُم بِلِقَآءِ رَبِّهِمْ كَـٰفِرُونَ ﴿١٠﴾

او وائی (منکران د بعث) آیا کله چی ورک شو مونږ په ځمکه کښی (چی خاوری شو) آیا بیشکه مونږ خامخا په نوی پیدایښت کښی یو ؟ (بلکه نه یو، نو الله وائی نه ده داسی چی دوی وائی) بلکه دوی له ملاقات د رب خپل څخه منکران دی (چی په قیامت باندی ایمان نه راوړی).

**تفسیر:** یعنی په دغه خبره ئی غور او فکر ونه کړ چی پاک الله دوی اول له خاورو څخه پیدا کړی دی او په خلاف د هغه ئی د شبهو په پیدا کولو شروع وکړ چی آیا له دی نه وروسته چی زمونږ جسم له خاورو سره گډوډ شی بیا به څرنگه مونږ ژوندی راپاڅول کیږو. دغه خو تشه یوه شبهه او استبعاد نه دی بلکه په صاف ډول (طریقه) سره دغه خلق له بعث بعد الموت څخه منکر شوی دی.

قُلۡ يَتَوَفّٰىكُمۡ مَّلَكُ الۡمَوۡتِ الَّذِىۡ وُكِّلَ بِكُمۡ ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمۡ تُرۡجَعُوۡنَ ؏ ﴿۱۱﴾

ووايه (ای محمده ! دوی ته) قبض کوی ارواح ستاسی پرښته د مرگ (عزرائیل) هغه چی مقرره شوی ده په تاسی (دپاره د قبض د ارواحو) بیا به رب خپل ته بیرته بوتلل شئ (پس له مرگ نه د حساب دپاره)

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب لیکی «یعنی تاسی خپل ځان یوازی بدن او جسد گڼئ چی له خاورو سره گډود او خاوری کیږی داسی نه ده. تاسی په حقیقت کښی روح یئ چی هغه پرښتی له خپله ځانه سره وړی او بیخی نه فنا کیږی! (موضح).

وَلَوۡ تَرٰٓى اِذِ الۡمُجۡرِمُوۡنَ نَاكِسُوۡا رُءُوۡسِهِمۡ عِنۡدَ رَبِّهِمۡ ؕ رَبَّنَاۤ اَبۡصَرۡنَا وَسَمِعۡنَا فَارۡجِعۡنَا نَعۡمَلۡ صَالِحًا اِنَّا مُوۡقِنُوۡنَ ﴿۱۲﴾

او که ووینی ته (ای محمده !) کله چی دغه کافران ښکته اچوونکی به وی د سرونو خپلو په نزد د رب خپل (په ورځ د قیامت کښی له ذلت ندامت او خجالت نه او وائی به) ای ربه زمونږ ولیده مونږ او واوریده مونږ «وعده ستا او تصدیق د رسولانو» پس بیرته بوزه مونږ «دنیا ته له پاره د دی» چی وکړو ښه عمل بیشکه چی مونږ یقین کوونکی یو (نو وبه گوری ته یو سخت بد کار او دغه وینا به دوی ته له سره څه گټه (فائده) نه رسوی.)

**تفسیر:** یعنی زمونږ غوږونه او سترگی، خلاصی شوی، د رسول الله په هغو خبرو چی ویلی ئی دی زمونږ یقین راغی او دغه گرد (تول) شیان مو په خپلو سترگو سره ولیدل او ښه وپوهیدو چی یوائی ایمان او صالح عمل د الله جل جلاله په نزد منظور او مقبول دی او په کار راځی اوس مو یو ځلی بیا دنیا ته ولیږه او ومو گوره چی مونږ څرنگه ښه عملونه کوو.

وَلَوۡ شِئۡنَا لَاٰتَيۡنَا كُلَّ نَفۡسٍ هُدٰٮهَا وَلٰـكِنۡ حَقَّ الۡقَوۡلُ مِنِّىۡ لَاَمۡلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الۡجِنَّةِ وَالنَّاسِ اَجۡمَعِيۡنَ ﴿۱۳﴾

او که اراده کړی وی مونږ نو خامخا ورکړی به ۇ مونږ هر نفس ته (په دنیا

کښې) هدایت د هغه ولیکن مقرره شوی ده دغه وینا (حکم) له ما چې خامخا ډک به کړم هرومرو (خامخا) دوزخ (له کفارو نه) له پیریانو او انسانانو ټولو څخه.

**تفسیر:** د الانعام په (۳) رکوع ۲۸ آیت کښې ئې ویلی دی ﴿وَلَوْ رُدُّوا لَعَادُوا لِمَا نُهُوا عَنْهُ﴾ یعنی بیا مو دنیا ته ولیږه! او ومو ګوره چې مونږ څرنګه ښه عملونه کوو یعنی دوی دروغ وائی که دنیا ته بیرته ولیږلی شي بیا به هم دوی پخپلو هم دغو شرارتونو کښې بوخت (مشغول) وی د دوی د طبیعت اقتضاء او غوښتنه هم داسی ده چې د شیطان اغواء او لمسون قبلوی او د الله تعالیٰ له رحمت څخه لرې تښتي بیشکه مونږ په دغه خبره قادر یو چې د دنیا ګرد (ټول) انسانان په جبر او زور سره د هدایت په لاره راولو او پرې قائم ئې کړو چې د هغه په لوری د انسانانو زړونه فطرتاً مایل دی لیکن په دغه تقدیر سره چې ګرد (ټول) انسانان په هم دغه یوه طور او طریقه اختیارولو مجبور کول دغه زمونږ د حکمت او مصلحت څخه مخالف ؤ چې د هغه بیان په څو نورو ځایونو کښې پخوا له دی نه شوی دی نو هم هغه خبره پوره کیدونکی وه چې د ابلیس د دغی دعوی ﴿لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ﴾ ص، ۸۲-۸۳ آیت په ځواب کښې ویلی وه ﴿فَالْحَقُّ وَالْحَقَّ أَقُولُ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكَ وَمِمَّنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ أَجْمَعِينَ﴾ (د ص (٥) رکوع ۸٤-۸۵ آیت ۲۳ جزء) معلومه شوه چې دلته له جن او انس څخه مراد هم هغه شیاطین او د هغو پیروان دی.

فَذُوقُوا بِمَا نَسِيتُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَا إِنَّا نَسِينَاكُمْ وَذُوقُوا عَذَابَ الْخُلْدِ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٤﴾

پس وڅکئ تاسی (دا عذاب) په سبب د دی چې هیر کړی ؤ تاسی ملاقات د ورځی ستاسی چې دا دی بیشکه چې مونږ به هم هیر کړو تاسی او وڅکئ تاسی عذاب دائمی په سبب د هغه (کفر او تکذیب) چې وی تاسی چې کاوه به مو (په دنیا کښې)

**تفسیر:** یعنی مونږ هم تاسی هیر کړی ئې، یعنی هیڅکله به په رحمت سره نه یادول کیږئ. وروسته له دی نه د مجرمینو په مقابل کښې د مؤمنانو حال او مآل بیانوی.

إِنَّمَا يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا الَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِهَا خَرُّوا سُجَّدًا وَسَبَّحُوا بِحَمْدِ رَبِّهِمْ

وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ۩ ﴿١٥﴾ تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ
رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ ﴿١٦﴾

بیشکه هم دا خبره ده چې ایمان راوړی په آیتونو زمونږ هغه کسان کله چې پند ورکړی شی دوی ته په دغو (آیتونو) نو پریوځی په داسی حال کښې چې سجده «عبادت» کوونکی وی الله ته او تسبیح وائی سره له ثناء د رب خپل او دوی تکبر لوئی نه کوی (له عبادت نه) لری کیږی ډډی د دوی له ځایونو د خوب (دپاره د تهجد) بولی دوی رب خپل (پټ له خلقو نه) له ویری (د قهره د الله نه) او له طمعی (د رحمت د ده نه) او ځینی له هغو مالونو چې ورکړی دی مونږ دوی ته لګوی (ئی په لاره د الله کښې)

**تفسیر:** یعنی په خوف او خشیت او خشوع او خضوع په سجده لویږی، په ژبه سره د الله تعالیٰ تسبیح او تحمید اداء کوی او په زړه کښې د کبر، غرور، لوئی، ځانمنی (غرور) داسی خبری نه ګرځوی چې د الله د آیتونو په مقابل کښې د تیتیدلو څخه مانع وی. له خوږو خوبونو او پستو بسترو څخه پورته کیږی او د پاک الله په حضور کښې دریږی. له دی نه مراد د تهجد لمونځ دی لکه چې په صحیح حدیث کښې راغلی دی.

او ځینو تری د سبا او د عشا د لمانځه یا د مغرب او د عشا د لمانځه په منځ کښې کوم نفلونه چې کیږی هغه مراد کړی دی. ګواکی په الفاظو کښې د دی خبری د ځائیدلو ځای هم شته. لیکن قوی هم هغه لومړی تفسیر دی. والله اعلم.

حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «له الله تعالیٰ څخنی هیله (امید) او طمع لرل او ویریدل بد نه دی اعم له دی نه چې په دنیوی امورو کښې وی یا په اخروی کښې. که په دغه مقصد کوم بنده عبادت کوی نو مقبول دی. هو! که د بل کوم موجود د خوف یا رجاء له سببه بندګی وکړی نو هغه ریاء ده له سره نه قبلیږی».

فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّا أُخْفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٧﴾

پس نه دی معلوم هیڅ نفس ته (نه پرښتی او نه نبی ته) هغه شی چې پټ کړی شوی دی دوی ته له یخوالی د سترګو نه دپاره د جزاء د هغه عمل چې وو دوی چې کاوه به ئی (پټ)

**تفسیر:** یعني څرنګه چې د شپو په تیارو کښې له خلقو څخه په پټه دوی بې ریاء عبادت کړی دی د هغه په بدل کښې الله تعالیٰ هغه نعمتونه چې پټ ساتلي دي او د هغو پوره کیفیت هیچا ته نه دی معلوم دوی ته ورکوی چې د هغو د لیدلو څخه د دوی سترګې روښانه کیږي. په حدیث کښې راغلي دي چې ما خپلو نیکو بندګانو له په جنت کښې دوه شیان پټ ساتلي دي چې د هغو مثال نه سترګو لیدلی دی او نه د هغه تعریف غوږونو آوریدلی دی او نه د کوم انسان په زړه کښې ګرځیدلی دی.

**تنبیه:** سرسید او نورو د دغه حدیث په اساس په جنت کښې له جسماني نعمتونو څخه انکار کړی دی د دوی په ځواب کښې د (مولٰینا شبیر احمد) یو مضمون د «هدیه سنیه» تر عنوان لاندې چاپ دی ښائي چې هغه دی ولوست شي.

اَفَمَنْ كَانَ مُؤْمِنًا كَمَنْ كَانَ فَاسِقًا ۗ لَا يَسْتَوٗنَ ۞ ۱۸

آیا پس هغه څوک چې وي مؤمن لکه هغه څوک دی چې وي هغه فاسق نه دي برابري (دا دواړه ډلې)

**تفسیر:** یعني که د یوه ایماندار او د یوه بې ایمانه آخره خاتمه او انجام یو شانته شي نو ویوهیږئ چې (العیاذ بالله) د الله تعالیٰ په دربار کښې توره تیاره ده.

اَمَّا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَلَهُمْ جَنّٰتُ الْمَاْوٰی ۫ نُزُلًۢا بِمَا كَانُوْا یَعْمَلُوْنَ ۞ ۱۹

هر څه هغه کسان چې ایمان ئې راوړی دی او کړی ئې دي ښه (عملونه) پس شته دوی لره جنتونه د هستوګنې په طریقه د میلمستیا په سبب د هغو عملونو چې وو دوی چې کول به ئې (په دنیا کښې).

**تفسیر:** یعني د الله تعالیٰ په فضل به د دوی صالح عمل د جنت د میلمستیا سبب ګرځي.

وَ اَمَّا الَّذِیْنَ فَسَقُوْا فَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ ؕ كُلَّمَاۤ اَرَادُوْۤا اَنْ یَّخْرُجُوْا مِنْهَاۤ اُعِیْدُوْا فِیْهَا وَ قِیْلَ لَهُمْ ذُوْقُوْا عَذَابَ النَّارِ الَّذِیْ كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ۞ ۲۰

او هر څه هغه کسان چې فاسقان شوی دی پس ځای د هستوګنی د دوی اور (د دوزخ) دی (هر کله چې اراده وکړی دوی د دی چې راوځی له دغه اوره نو بیرته به غورځول کیږی دوی په دغه اور کښې او ویل کیږی به دوی ته (د اهانت په ډول (طریقه)) وڅکئ تاسی عذاب د اور «د دوزخ» هغه عذاب چې وئ تاسی چې د هغه به مو تکذیب کاوه (په دنیا کښې او باور مو پری نه کاوه).

**تفسیر:** یعنی کله کله چې د اور شغلی دوزخیان د دروازی په لوری وغورځوی په دغه وخت کښې ښائی دوی د تښتیدلو په فکر کښې ولویږی نو پرښتی به له هغه ځای څخه دوی په تیل وهلو سره بیرته بیائی او دوی ته به وائی چیری ځئ ؟ هغه شی مو چې دروغ باله او باور مو پری نه کاوه اوس د هغه خوند او مزه وڅکئ **(اللّٰهم اعذنی من النار واجرنی من غضبک)**.

**وَلَنُذِيقَنَّهُمْ مِّنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَىٰ دُونَ الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٢١﴾**

او خامخا وبه څکوو مونږ هرومرو (خامخا) په دوی باندی له هغه عذاب نژدی (په دنیا کښې) لږ له عذاب لوی نه (چې د آخرت دی) دپاره د دی چې دوی وګرځی (له کفر نه اسلام ته).

**تفسیر:** یعنی د آخرت د لوی عذاب څخه پخوا په دنیا کښې لږ څه کمه درجه عذاب پری نازلؤو څو هغه کسان چې د رجوع توفیق ور په برخه وی له الله تعالیٰ څخه وویریږی او الله تعالیٰ ته رجوع وکړی. کمه درجه عذاب هم دغه دنیوی مصائب دی لکه ناروغی، قحطی، قتل، قید، د مال او د اولاد او د نورو تباهی او نور.

**وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِآيَاتِ رَبِّهِ ثُمَّ أَعْرَضَ عَنْهَا ۚ إِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِينَ مُنتَقِمُونَ ﴿٢٢﴾**

او څوک دی ډیر ظالم له هغه چا چې پند ورکړ شی په آیتونو د رب خپل

(قرآن) بیا مخ وګرځوی تری (فکر او غور ونه کړی پکښی او وروسته له پوهیدلو تری بیرته وګرځی بلکه له دی نه ډیر ظالم نشته) بیشکه چی مونږ له دغو مجرمانو څخه انتقام اخیستونکی یو (په عذاب سره)

**تفسیر:** کله چی مونږ له تولو ګنهګارانو او ظالمانو او مجرمانو څخه انتقام او بدل اخیستونکی یو نو دغه ډیر ظالم به څرنګه نجات تری ومونډلی شی ؟ له دی نه وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم ته تسلی ورکوی چی ته د دوی له ظلم او اعراض څخه مه خپه کیږه ! پخوا مو موسیٰ علیه السلام ته هم کتاب ورکړی ؤ چی په هغه سره بنی اسرائیلو هدایت وموند او د ده په تابعانو کښی لوی لوی دینی پیشوایان او امامان تیر شول تاته هم بیشکه د الله تعالیٰ له طرفه دغه عظیم الشان کتاب درکړی شوی دی چی ډیر خلق به پری لار ومومی او له بنی اسرائیلو څخه به زیات ستا په امت کښی لوی لوی امامان او پیشوایان پیدا شی. پاتی شوه د منکرانو فیصله هغه به پخپله پاک الله کوی.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ فَلَا تَكُنْ فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْ لِّقَآئِهٖ وَجَعَلْنٰهُ هُدًى لِّبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿۲۳﴾

او خامخا په تحقیق ورکړی وو مونږ موسیٰ ته کتاب (د تورات لکه چی تاته مو ای محمده قرآن درکړی دی) پس مه کیږه ته! په شک کښی له ملاقاته د دغه (موسیٰ) او ګرځولی وو مونږ تورات یا موسیٰ هدایت دپاره د بنی اسرائیلو (اولاده د یعقوب)

**تفسیر:** ﴿ فَلَا تَكُنْ فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْ لِّقَآئِهٖ ﴾ په منځ کښی معترضه جمله ده یعنی بیشکه او بی شبهی موسیٰ علیه السلام ته کتاب ورکړی شوی ؤ او تاته هم داسی کتاب درکړی شوی دی چی په دغه کښی هیڅ قسم چل او فریب او پلمه (تدبیر) نشته یا ئی د موسیٰ علیه السلام د ذکر په نسبت وویل چی تاسی له موسیٰ علیه السلام سره د معراج په شپه کښی ولیدل هغه واقعی او حقیقی ملاقات ؤ او په هغه کښی هیڅ قسم چل، تیرایستل، سترګی پتول او نور شک او شبهه نه وه.

وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ اَئِمَّةً يَّهْدُوْنَ بِاَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوْا ۣ

او ګرځولی ؤ مونږ ځینی له دوی نه امامان چی لاره به ئی ښووله (خلقو ته)

په حکم زمونږ کله چی صبر وکړ دوی (په دین خپل)

**تفسیر:** یعنی د دنیا په سختیو او د منکرانو په ظلم او تیریو ئی صبر وکړ او خپل دین ئی تینګ وساته

وَكَانُوا بِآيَاتِنَا يُوقِنُونَ ﴿٢٤﴾

او وو دوی چی په آیتونو زمونږ (چی له انبیاؤ الله سره ؤ) یقین به ئی کاوه.

**تفسیر:** یعنی مسلمانان دی د الله تعالیٰ په وعدو یقین او باور ولری او په سختیو دی صبر وکړی او پخپلو کارونو کښی دی ثابت او قائم اوسی نو له دوی سره به پاک الله هم داسی معامله وکړی لکه چی وشوه او ښه وشوه.

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿٢٥﴾

او بیشکه رب ستا هم دی به فیصله (حکم) کوی په منځ د دوی کښی په ورځ د قیامت کښی په هغه شی کښی چی وو دوی په دغه شی کښی (په دغه دنیا کښی چی سره) اختلاف به ئی کاوه.

**تفسیر:** یعنی د اهل الحق او منکرانو په منځ کښی قاطعه فیصله او عملی پریکړه به د قیامت په ورځ وشی هو! په دنیا کښی هم ډیر مثالونه داسی ښوول شوی دی چی انسان د هغو له لیدلو څخه پوهه او عبرت حاصلولی شی آیا د عاد او د ثمود د تباه او ویجاړ شوی کلی او کندوالی او مخروبی نښی دغو منکرانو نه دی لیدلی ؟ چی په هغو د شام او د مکی د سفر په وخت کښی مسافرین او عابرین تل تیریږی آیا د دوی د هلاکولو او تباهی قصی ئی نه دی آوریدلی ؟. د تعجب ځای دی چی د دغو شیانو د لیدلو او آوریدلو نه وروسته هم دوی متنبه نشول او د نجات او فلاح لاره ئی ونه لیدله.

أَوَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَبْلِهِم مِّنَ الْقُرُونِ يَمْشُونَ
فِي مَسَاكِنِهِمْ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ ۖ أَفَلَا يَسْمَعُونَ ﴿٢٦﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا
أَنَّا نَسُوقُ الْمَاءَ إِلَى الْأَرْضِ الْجُرُزِ فَنُخْرِجُ بِهِ زَرْعًا

آیا (لاره د عبرت) نه ده ښوولی دغو (مکیانو) ته (دی خبری) چی څومره هلاک کړی دی مونږ پخوا له دوی نه له اهل د زمانو چی تل تیریږی (دغه کفار) په (ورانو) کورونو د دوی، بیشکه په دغه (هلاکولو د پخوانیو) کښی خامخا لوی دلائل د قدرت دی آیا پس نه اوری دوی (د عبرت په غوږونو) آیا نه وینی دوی چی بیشکه مونږ بهوو (ویالی د) اوبو طرف د ځمکی وچی ته (چی ګیاه پکښی نه وی) پس راوباسو مونږ په هغو سره کښت (فصل)

**تفسیر:** یعنی بهوو مونږ د نهرونو، ویالو او د سیندونو اوبه یا د باران اوبه. نو آیا نه وینی دوی دا چی بیشکه مونږ راوکاږو اوبه ځمکی وچی ته چی ګیاه پکښی نه وی له «الارض الجرز» څخه هغه وچه توره ځمکه مراد ده چی له نباتاتو څخه تشه او خالی وی ځینی تری خاص د مصر ځمکی مصداق او مراد ګرځوی او له «نسوق الماء» څخه د نیل د سیند اوبه مرادوی ولی دی تخصیص ته هیڅ ضرورت نشته **کما نبه علیه ابن کثیر رحمه الله.**

تَأْكُلُ مِنْهُ أَنْعَامُهُمْ وَأَنفُسُهُمْ ۖ أَفَلَا يُبْصِرُونَ ﴿٢٧﴾

چی خوری له دغه کښته (فصله) چارپایان د دوی (واښه، پانی) او نفسونه د دوی (دانه او میوه) آیا پس نه وینی (نښی د قدرت د ده)

**تفسیر:** یعنی ښائی چی دغه نښی ئی کتلی او د الله تعالیٰ په کامل قدرت، حکمت او رحمت قائل شوی وی او ښه پوه شوی وی چی دی هم داسی د مړی په لاش کښی هم بیا روح ننباسی او دغه «بعث بعد الموت» ده ته څه اشکال او سختی نه لری او هم ښائی چی د الله تعالیٰ په نعمتونو ئی د زړه له کومی شکر ویستلی وی.

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْفَتْحُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٢٨﴾

او وائی (کفار) کله به وی دغه فتح (فیصله) که چیری یئ تاسی رښتینی (په دغه فتحه کښی)

**تفسیر:** پخوا ئی ویلی وو چی د دوی فیصله به د قیامت په ورځ کیږی. د ده په نسبت به منکرینو داسی ویل چی ته پرله پسی قیامت قیامت وائی. که ته رښتینی ئی نو راوښیه چی هغه ورځ به کله راځی؟. مطلب دا دی چی دغه خو تش دارول او چتی (بیکاره) انذار دی قیامت او

نور هیڅ شی نشته

قُلْ يَوْمَ الْفَتْحِ لَا يَنفَعُ الَّذِينَ كَفَرُوا إِيمَانُهُمْ وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ ﴿٢٩﴾

ووایه (ای محمده! دوی ته) چې په ورځ د فتح (قیامت) کښې هیڅ نفع به ونه رسوی هغو کسانو ته چې کافران شوی دی ایمان راوړل د دوی (په دغه ورځ کښې) او نه به دوی ته مهلت ورکړ شي او نه به دوی ته انتظار وکړ شي.

**تفسیر:** یعنی اوس وخت دی چې د الله تعالیٰ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خبرو یقین او باور وکړئ او د هغې ورځې د تاسف او تحسر او له عذابه ځان وژغورئ (وساتئ)! او ورته بیخی آماده او تیار شئ! وروسته له هغه چې قیامت شي بیا ایمان او باور له سره نه پکارېږی او نه به په سزا کښې څه تاخیر تخفیف او مهلت وی او نه به مجرم ته داسی کومه موقع او فرصت ورکاوه کیږی چې په هغه کښې دی د خپلو اعمالو تعدیل او اصلاح وکړی او بیا خپل حساب او کتاب ته حاضر شي. نو د دغه وخت فرصت او مهلت غنیمت وګڼئ! او په تکذیب او استهزاء خپل وخت مه ضائع کوئ! هغه ساعت چې راتلونکی دی یقیناً او قطعاً راځی او له سره پکښې هیڅ دیل، تعطیل او تاخیر نشته نو داسی پوښتنی او وینا بیخی فضولی او بیکاره دی چې هغه ورځ به کله راځی؟ او څه وخت به دغه فیصله صادرېږی؟

فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَانتَظِرْ إِنَّهُم مُّنتَظِرُونَ ﴿٣٠﴾ ع

پس مخ وګرځوه! له دوی نه او منتظر اوسه (د الله نصرت ته) بیشکه دوی هم منتظر دی (د غلبې په تا)

**تفسیر:** یعنی هغه کسان چې داسی بی فکره او بی‌حسه دی چې د انتهائی مجرموالی او د سزا د وړ (لائق) ګرځیدلو سره سره د فیصلې د ورځې او د سزا د صدور په نسبت توکی او مسخری کوی او وربوری خاندی نو له دوی څخه ځرنګه داسی هیله (امید) او توقع کیدی شي چې ګوندی دوی به سمه لاره راشي نو تاسی د خپل تبلیغ او د دعوت د فریضې په اداء کولو کښې مصروف او لګیاء اوسئ! او د دوی له زیات فکر او خیال څخه بیخی بی پروا شئ! او هغوی پخپل سر پریږدی! او د دوی د هلاکیدلو او تباهی په انتظار کښې اوسئ! لکه چې هغوی هم پخپل زعم او اتکل (معاذالله) ستاسی د تباهی او خرابی په انتظار کښې دی **(وهذا قبل الامر بقتالهم).**

**(تمت سورة السجدة ولله الحمد والمنة)**

(سورة الاحزاب مدنية وهی ثلاث وسبعون آية وتسع ركوعات)
(رقم تلاوتها (۳۳) تسلسلها حسب النزول (۹۰) نزلت بعد سورة «آل عمران»)
د الاحزاب) سورت مدنی دی (۷۳) آیت (۹) رکوع لری په تلاوت کښې (۳۳) او په «نزول کښې (۹۰) سورت دی وروسته د آل عمران د سورت څخه نازل شوی دی

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم، په نامه د الله چی ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللّٰهَ وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۙ﴿۱﴾ وَّاتَّبِعْ مَا يُوْحٰٓى اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ۙ﴿۲﴾ وَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴿۳﴾

ای نبی (محمده!) وویریږه (تل) له الله څخه او مه منه (حکم) د کافرانو او (نه) د منافقانو، بیشکه چی الله دی ښه عالم پر هر شی ښه حکمت والا. او متابعت کوه! (ای محمده!) د هغه (حکم) چی درلیږل کیږی تاته له جانبه د رب ستا بیشکه چی الله دی پر هغو کارونو چی کوئ ئی تاسی ښه خبردار او توکل وکړه په الله (او ورو سپاره کارونه خپل)، او کافی بس دی الله کار جوړوونکی (ستا).

**تفسیر:** یعنی هم هغسی چی تر نن پوری معمول ؤ وروسته له دی نه هم تل له یوه خدای څخه ویریږه! او د کافرانو او منافقانو خبره له سره مه منه! که دغه ګرد (تول) سره یو ځای شی او خپل لاسونه سره یو کړی او راز راز (قسم قسم) پلمی(تدبیرونه) او حیلی هم جوړی کړی او تاسی ته د دروغو مطالبات او د تګی مشوری در وړاندی کړی او وغواړی چی خپل طرف ته دی متمایل کړی نو تاسی قطعاً او اصلاً د هغوی پروا مه کوئ! او بی د الله تعالیٰ څخه د بل هیچا څخه خوف او اندیښنه مه کوه! او د هم هغه یوه خدای خبره منه، او د هغه په دربار کښې خپله غاړه ږده! اګر که ګرد (تول) مخلوق سره یو ځای شی او تاته راشی. د الله تعالیٰ د احکامو په خلاف د هیچا خبرو ته غوږ مه ږده! الله تعالیٰ پر ګردو (تولو) احوالو ښه پوهیدونکی دی. الله تعالیٰ په هر وخت کښې هر حکم چی درکوی په نهایت حکمت او مصلحت او خبرداری سره ئی

درکوی او په هغه کښې ستا اصلي خير او ښيګڼه (فائده) ده. کله چې ته د الله تعالیٰ پر احکامو تګ وکړې! او د ده پر لوی ذات توکل او اعتماد ولرې! نو دی به ستا ګرد (تول) امور پخپل فضل او مرحمت او قدرت سره جوړ کړي. يوائې د الله تعالیٰ ذات د توکل او اعتماد وړ (لائق) دی. هر څوک چې قلباً، خالصاً، او مخلصاً په ده پوری خپل ځان وتړي، نو دی به په بل چا يا بلي خوا ته له سره خپل زړه نشي ترلی. هو! که دی د دوو زړونو خاوند وی نو طبيعي ده چې هغه بل زړه به ئی بلي خوا ته درومي ليکن د هر يوه انسان په تتر (سينه) کښې فقط هم دغه يو زړه وی. حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليکي «کفار غواړی چې د ده زړه نرم او خپل لوری ته ئی متمايل کړي او منافقان په خپل چال او چل درزده کولو پسې لويدلي دی او رسول الله يوائې پر الله تعالیٰ باندی اعتماد او توکل کوی چې له هغه څخنی زيات عليم او خبير بل څوک نه دی.»

---

مَا جَعَلَ اللّٰهُ لِرَجُلٍ مِّنْ قَلْبَيْنِ فِيْ جَوْفِهٖ ۚ وَمَا جَعَلَ اَزْوَاجَكُمُ الّٰٓـِٔيْ تُظٰهِرُوْنَ مِنْهُنَّ اُمَّهٰتِكُمْ ۚ وَمَا جَعَلَ اَدْعِيَآءَكُمْ اَبْنَآءَكُمْ ۭ ذٰلِكُمْ قَوْلُكُمْ بِاَفْوَاهِكُمْ ۭ وَاللّٰهُ يَقُوْلُ الْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِي السَّبِيْلَ ④

---

نه دی پيدا کړی الله دپاره د هيڅ سړی دوه زړونه په دننه د ده کښې او نه دی ګرځولي (الله) ښځې ستاسي هغه چې ظهار کوئ تاسي له هغو څخه ميندی ستاسي او نه دی ګرځولي (الله) هغه په زامنو بلل شويو ستاسي (واقعي) زامن ستاسي دغه (دری مذکوره خبری چتی (بيکاره)) خبری ستاسي دی په خولو ستاسي (چې هيڅ حقيقت نه لری) او الله وائی حقه (رښتيا خبره) او هم دغه الله ښيی ليار (سمه صافه حقه)

---

**تفسير:** يعني څنګه چې انسان په تتر (سينه) کښې دوه زړونه نه لری هم داسې په حقيقت کښې يو انسان دوه ميندی يا دوه پلرونه هم نه لری. د جاهليت په زمانه کښې به که کوم سړی خپله ښځه مور وبلله نو پخپل ګرد (تول) عمر کښې به له هغې سره نه يو ځای کيده ګواکې دوی به داسې ګڼل چې په هم دغه لفظ سره هغه ښځه د ده د حقيقي مور په شان وګرځيده که چاته به ئی د خپل زوی يا د لور نسبت کاوه نو هغه به ئی واقعاً خپل اولاد ګڼانه او د پلارتوب او زوی توب ګرد (تول) احکام به پر هغو مترتب کيدل عظيم الشان قرآن د دغه مصنوعي او لفظي تعلق له حقيقي او فطري تعلق څخنی د جلا (جدا) کولو لپاره د دغو رسومو او مفروضاتو په دير تشديد او تهديد سره ترديد وکړ او دغه ئی ښکاره کړه چې که څوک خپلي ښځې ته مور ووائی

په دغه تش ویلو سره هغه د ده واقعي مور نه ګرځي که نه د دغې خبرې له منلو څخه دا لازمیږي چې دغه سړی د دوو ښځو له ګیدو څخه پیدا شوی دی یوه هغه چې دی ئې زیږولی دی او دوهمه دغه چې دی ورته مور وائی، په دغه صورت سره که څوک زید خپل زوی وبولی نو د زید یو پلار خو لا له پخوا څخه موجود وو چې دی د هغه له نطفې څخه پیدا شوی دی نو آیا د واقعیت له مخې دغه خبره ومنله شي چې زید د دوو پلرونو څخه بیل بیل پیدا شوی دی لکه چې داسی نه ده نو د حقیقي مور ؤ پلار او اولاد احکام پر دوی باندې نشي جاري کیدی لکه چې خپلې ښځې ته د مور ویلو حکم د (تحریم) په سورت کښې راځي او د متبنی (زوی بللو) حکم وروسته له دی نه راځي له دغو دواړو خبرو سره ئې دغه دریمه خبره د تمهید او تشریح په ډول(طریقه) هم واوروله چې داسې ډیرې خبرې له ژبې او خولې څخه راوځي چې په واقع کښې حقیقت او واقعیت نه لري لکه چې کوم غیر مستقل مزاج یا دوه رګه انسان یا کوم قوي الحفظ او قوي القلب سړی یا داسي چا ته چې په یوه وخت کښې د دوو مختلفو شیانو په طرف متوجه کیدی شي داسې وائي چې دی د دوو زړونو خاوند دی حال دا چې که څوک ئې تتر ورڅیرې کړي او وئې ګوري نو هغه به ضرور هم هغه یو زړه لري. هم داسې پر خپلې مور سربیره (علاوه) بله ښځه مور بلل، یا برسیره (سوا) پر پلار بل کوم سړی پلار نیول، یا له خپل زوی څخه پرته (علاوه) بل کوم هلک ته خپل زوی ویل په واقع کښې په دغو ګردو (تولو) کښې قطعاً هغه نسبت نه ثابتیږي چې زمونږ د ژبې له ویلو څخه پرته (علاوه) د قدرت په قوت قائم شوی دی نو ځکه نه ښائي چې د حقیقي او مصنوعي تعلقاتو په منځ کښې ګډون او خلط وکړې شي.

ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِندَ اللَّهِ ۚ

وبولئ تاسې دغه (ادعیاء) پلرونو د دوی ته دغه (نسبت د دوی پلرونو د دوی ته) ډیر برابر (او غوره) دی په نزد د الله

**تفسیر:** یعنې ښه او د انصاف خبره خو دا ده چې د هر سړي نسبت د ده حقیقي پلار ته وکړ شي که کوم سړی کوم هلک خپل زوی وبولي (متبنی ئې وګرځي) نو هغه د ده حقیقي پلار نشي کیدی. که هم داسې د شفقت او محبت له مخې کوم سړی کوم هلک مجازاً په زوی توب سره ونیسي یا کوم وړوکی یو سړي ته پلار ووائي هغه بیله خبره ده. الغرض نه ښائي چې په نسبي تعلقاتو او د هغه په احکامو کښې د دغسې شیانو له امله (وجې) څه التباس او اشتباه واقع شي. د اسلام په ابتدا کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم زید بن حارثه آزاد کړ او خپل متبنی ئې وګرځاوه، لکه چې سم له دستوره به خلقو هغه ته «زید بن محمد صلی الله علیه وسلم» ویل، کله چې دغه آیات نازل شول ګردو (تولو) خلقو زید بن حارثه ورته ویل.

فَإِنْ لَّمْ تَعْلَمُوْٓا اٰبَآءَهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّيْنِ وَمَوَالِيْكُمْ ۚ وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ
جُنَاحٌ فِيْمَآ أَخْطَأْتُمْ بِهٖ وَلٰكِنْ مَّا تَعَمَّدَتْ قُلُوْبُكُمْ ۚ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝

پس كه نه پيژنئ تاسى (اى مؤمنانو!) پلرونه د دوى پس دوى ورونه ستاسى دى په دين كښې او دوستان ستاسى دى (په دين كښې) او نشته پر تاسى (هيڅ) ګناه په هغه شى كښې چې خطا شوى يئ تاسى پكښې (لكه چې وايئ زيد بن محمد) وليكن شته ګناه په هغه شى كښې چې قصد ئې وكړى زړونه ستاسى او دى الله ښه ښښونكى د (خطياتو) ډير رحم لرونكى (د اجر او ثواب په انعام سره)

**تفسير:** يعنى كه ئې پلار نه وى معلوم نو په هر حال ستاسى ورور او دينى ملګرى خو دى. نو په هم دغو القابو سره ئې يادوئ ! لكه چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم زيد بن حارث ته ويل «**انت اخونا ومولانا**» كه په هيره يا ناپوهى يا غلطى سره ئې وويل چې فلانى د فلانى زوى نو دغه معاف دى د خطاء او نسيان ګناه په هيڅ شى كښې نشته. په دغه كښې هم كه الله تعالىٰ اراده وكړى نو ښښى ئې.

النَّبِيُّ أَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ وَأَزْوَاجُهٗٓ أُمَّهٰتُهُمْ ۗ وَأُولُوا الْأَرْحَامِ
بَعْضُهُمْ أَوْلٰى بِبَعْضٍ فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُهٰجِرِيْنَ إِلَّآ أَنْ
تَفْعَلُوْٓا إِلٰٓى أَوْلِيٰٓئِكُمْ مَّعْرُوْفًا ۚ كَانَ ذٰلِكَ فِي الْكِتٰبِ مَسْطُوْرًا ۝٦

(محمد د الله) نبى ډير وړ (لائق) دى له مؤمنانو سره له نفسونو د دوى (د احكامو په انجام) او ښځى د دغه (نبى الله) ميندى د دوى دى (تعظيماً او تحريماً) او خاوندان د خپلوى ځينى د دوى ډير وړ (لائق) دى پر ځينو نورو (په ميراث كښې) په كتاب (حكم) د الله كښې له مؤمنينو (انصارو) او له مهاجرينو مګر خو دا چې وكړئ (پخپل ژوند كښې) له دوستانو خپلو سره څه احسان (يا ورته وصيت وكړئ په دريمه يا لږ له هغې) دى دغه (ميراث په ايمان او په هجرت) په كتاب (قرآن يا لوح محفوظ) كښې ليكلى شوى

**تفسير:** كه په غور سره وليدل شى د مؤمن ايمان د هغه لوى نور يوه شعاع ده چې د نبوت له

لمر څخه خوریږی. د نبوت لمر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دی. نو په دی اعتبار که مؤمن **«من حیث هو مؤمن»** د خپل ځان د حقیقت پوهیدلو لپاره په فکری حرکت شروع وکړی نو له خپل ایمانی شتوالی څخه پخوا ښائی چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم معرفت ځان ته حاصل کړی نو په دغه اعتبار ویلی شو چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم مسعود وجود زمونږ له وجوده هم زیات راته نژدی دی. که د دغه روحانی تعلق په بناء وویل شی چی د مؤمنانو په حق کښی رسول الله صلی الله علیه وسلم د پلار په شان دی بلکه له پلار څخه هم په مراتبو ډیر زیات دی نو دغه به بیخی په ځای او صحیح وی. لکه چی د ابو داؤد په سنن کښی د **«انما انا لکم بمنزلة الوالد»** الحدیث او د ابی بن کعب او نورو په قرائتونو کښی د (النبی اولی بالمؤمنین) آیت او د «وهواب لهم» جمله دا حقیقت څرګندوی (ښکاره کوی) که د پلار په تعلق کښی فکر وکړئ نو د هغه حاصل هم دا راوځی چی د زوی جسمانی وجود د پلار له جسمه راوتلی دی او د پلار طبیعی شفقت او تربیت له نورو څخه زیات دی لیکن آیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم تعلق د ده له امت سره له دی نه لږ دی ؟ یقیناً د محمدی امت ایمانی او روحانی موجودیت د رسول الله صلی الله علیه وسلم د لوی روحانیت یوه پلوشه او د هغه سیوری دی. او هغه شفقت او تربیت چی د نبی صلی الله علیه وسلم څخه څرګند (ښکاره) شوی دی د مور او پلار له طرفه لا څه بلکه په تولو مخلوقاتو کښی د هغه نمونه نشی موندلی. د پلار په ذریعه الله تعالیٰ مونږ ته د دنیا دغه عارضی حیات راکړی دی لیکن د نبی صلی الله علیه وسلم په برکت مونږ ته ابدی او دائمی حیات راحاصلیږی. نبی کریم صلی الله علیه وسلم زمونږ په نسبت داسی شفقت، مرحمت، خیر غوښتل، او همدردی کړی ده چی مونږ ئی د خپلو ځانونو لپاره نشو کولی نو ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم زمونږ په مال او په ځان او نورو شیانو کښی د تصرف هغه حق لری چی په دنیا کښی نور هیچا ته دغه حق نه دی حاصل. حضرت شاه صاحب لیکی چی «نبی د الله نائب(بمعنی رسول) دی، پخپل ځان او مال زمونږ دومره تصرفات او اختیارات نشی چلیدی څومره چی د نبی تصرفات په مونږ چلیږی مونږ ته دغه نه ده روا چی خپل ځان په سره لمبه او اور کښی واچوو که نبی صلی الله علیه وسلم دغه حکم صادر کړی نو بیا فرض کیږی. د هم دغو حقایقو په ملحوظ په احادیثو کښی راغلی دی « هیڅ یو له تاسی نشی مؤمن کیدی څو د ده په نزد زه له پلار او ځوی او نورو ګردو (تولو) انسانانو بلکه د ده له خپله ځان څخه هم ډیر زیات ګران او محبوب نه شم.» (وازواجه امهٰتهم، او ښځی د نبی میندی د دوی دی) یعنی ستاسی دینی میندی دی په تعظیم او احترام او په ځینو نورو احکامو کښی چی د هغوی لپاره د شریعت له مخ ثابت شوی وی نه په تولو احکامو کښی

﴿ وَأُولُوا۟ ٱلْأَرْحَامِ ﴾ او خاوندانو د خپلوی ځینی د دوی ډیر لائق دی په ځینو نورو الخ) یعنی له رسول الله سره دوی خپل وطن پریښی دی او له خپلو دوستانو او خپلوانو څنی بیل شوی دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم د مهاجرینو او د منوری مدینی د انصارو په منځ کښی د دوو تنو په منځ کښی دینی اخوت او اسلامی وروری ترلی وه. وروسته له دی چی د مهاجرینو نور خپلوان

مسلمانان شول نو دلته ئې داسې ووېل چې د قدرتي خپلوۍ رعايت به دغه مؤاخات ړومبی او مقدم دی ښائي چې ميراث او نور شيان د نسبي قرابت په اساس تقسيم کړل شي. هو! ښائي چې ښه سلوک او احسان دی له هغو ملګرو څخه هم منع نه شي.

﴿ كَانَ ذٰلِكَ فِي الْكِتٰبِ مَسْطُوْرًا ﴾ دی دغه ميراث او وصيت په کتاب قرآن لوح محفوظ کښې ليکلی شوی) يعنې په قرآن کښې دغه حکم د تل لپاره جاري او نافذ دی يا به په تورات کښې هم وي. يا به له کتاب څخه لوح محفوظ مراد وي.

---

وَاِذْ اَخَذْنَا مِنَ النَّبِيّٖنَ مِيْثَاقَهُمْ وَمِنْكَ وَمِنْ نُّوْحٍ وَّاِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى وَعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَاَخَذْنَا مِنْهُمْ مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا ۝

---

او ياد کړه (ای محمده !) کله چې واخيست مونږ له (تولو) انبياؤ څخه عهد د دوی (په الست کښې چې هم دی پخپله دوی عبادت کوی او هم دی نور زما عبادت ته رابولي) او (بالخاصه) له تانه او له نوح او (له) ابراهيم او (له) موسیٰ او (له) عيسیٰ زوی د مريمې نه (چې عبادت د الله کوئ) او واخيست مونږ له دغو (تولو انبياؤ) څخه (په قسم سره) عهد محکم.

---

**تفسير:** يعنې دغه قول او قرار چې يو به د بل تائيد او تصديق کوی او د دين په قائمولو او د الله تعالیٰ د پيغام په رسولو کښې به له سره هيڅ قسم نقص او قصور نه کوی په « آل عمران» کښې د دغه ميثاق ذکر تير شوی دی. حضرت شاه صاحب ليکي «پاس ئې د رسول په حق کښې ويلي وو چې په مؤمنانو د دوی له ځانونو څخه زيات تصرف کولی شي. دلته دی ته اشاره ده چې دغه درجه انبياؤ ته ځکه وررسيدلې ده چې په دوی محنت مسؤليت او ذمه واري هم له ګردو (تولو) څخه زيات دی. يوائې له تولو خلقو سره مقابله او له هيچا څخه هيڅ دول (طريقه) خوف او رجاء نه لرل» پرته (علاوه) له انبياؤ نه د بل چا له لاسه پوره ده؟ د دغو پنځو رسولانو نومونه چې دلته په خصوصيت سره ياد شوی دی اولوالعزم بلل کيږی د دوی هدايت او ليار ښوونې تر زرهاؤ کلونو پاتی دی او تر څو چې دنيا ودانه ده پاتي به وی. له دوی مخنې ړومبی ئې زمونږ د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم نوم واخيست حال دا چې د ده ظهور په عالم شهادت کښې له ګردو (تولو) څخه وروسته شوی دی مګر په درجه کښې له ګردو (تولو) څخه وړاندی دی. او د ده وجود هم په عالم غيب کښې له تولو څخه مقدم دی لکه چې په حديث کښې راغلی دی.

---

لِّيَسْـَٔلَ الصّٰدِقِيْنَ عَنْ صِدْقِهِمْ ۚ وَاَعَدَّ لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا اَلِيْمًا ۝

دپاره د دی چی وپوښتی (الله) له صادقانو څخه له صدق (رښتیا) د دوی او (الله) تیار کړی دی دپاره د کافرانو عذاب دردناک

**تفسیر:** یعنی له قول او اقرار سره مطابق د انبیاؤ پر ژبه ئی خپل احکام خلقو ته ورسول او د حجت اتمام ئی وفرمایه بیا به له هر یوه څخه بیلی بیلی پوښتنی کوی څو د صادقینو پر صداقت قائم پاتی کیدل ښکاره شی او منکرینو ته د صدق پر انکار سزا ورکړه شی وروسته له دی نه د «احزاب» د جنگ واقعه یادوی چی د رښتین رسول الله صلی الله علیه وسلم او د رښتینو مؤمنینو په مقابل کښی د دروغجنانو منافقانو او د منکرانو څه حال احوال شو ؟ او د دوی د ظاهری ثمراتو او نتائجو ذکر کوی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذْكُرُواْ نِعْمَةَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَآءَتْكُمْ جُنُودٌ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا وَجُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرًا ﴿٩﴾

ای هغو کسانو چی ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو!) یاد کړئ تاسی نعمت د الله پر تاسی کله چی په (غزوه د احزاب کښی) راغللی تاسی ته لښکری (د کفارو) امر یعنی راولیږو مو پر دوئ باد او داسی فوځونه (د ملائکو) چی (هیڅ) نه لیدلی تاسی دوی (یعنی د پرښتو فوځونه چی د کفارو په زړونو کښی به ئی رعب او ویره غورځوله) او دی الله پر هغو (کارونو) چی کوئ ئی تاسی ښه لیدونکی

**تفسیر:** د هجرت په څلورم او پنځم کال کښی د بنی نضیرو یهودان له منوری مدینی څخه وویستل شول چی ذکر ئی د «الحشر» په سورت کښی راځی دغه فراری یهودان کور په کور او قوم په قوم وگرځیدل او هغوی ئی د اسلام او مسلمینو په خلاف ولمسول او گرد (تول) ئی د مسلمانانو په خلاف جنگ ته مستعد او تیار کړل. او د بنی فزاره او غطفان او د عربو د نورو قبائلو د متحده ؤ طاقتونو هجوم او حمله پر منوره مدینه باندی بریالیان او کامیاب شول. تقریباً دولس زره سره او کره لښکر سره له پوره وسلو، سامان، تجهیزاتو او لوازمو د فتح او ظفر په نشو کښی مست ورتوی شول د «بنی قریظه ؤ» د یهودانو یوه تینگه او کلکه کلا د مدینی منوری په شرقی جانب کښی وه. دوی پخوا له دی نه له مسلمانانو سره معاهده ترلی وه. بالاخر دوی د نضیری یهودانو په ترغیب او ترهیب هغه معاهده ماته کړه او د متعارضینو د امداد او معاونت له پاره د مسلمانانو په خلاف ودریدل د مسلمانانو عمومی جمعیت تول دری زره تنه ؤ

چې په هغه کښې يو لوی تعداد دغابازان منافقان ؤ چې د تکليف او سختی په وخت کښې به ئې د دروغو بهانې او پلمی (تدبيرونه) جوړولې او د جنګ له ميدانه به ئې ورو ورو خپل ځانونه ايستل رسول الله صلی الله عليه وسلم په دغه مورد کښې له مسلمانانو سره مشوره وکړه بالاخر د پارسی سلمان رضی الله تعالیٰ عنه په مشوره د ښار په اطرافو کښې په هغو ځايونو کښې چې د کفارو د تعرض او د حملې انديښنه وه خندقونه وکنستل شو د سختی يخنی وقت ؤ غله هم ډيره قيمته او ډيره لږه پيدا کيده د لوږی له سببه صحابه ؤ رضی الله تعالیٰ عنهم او پخپله رسول الله مبارک هم پر خپلو ګيدو تيږی (ګټی) ترلی وی مګر سره له هغه د الله تعالیٰ په عشق او مينه کښې ګرد (تول) مست او بيخوده وو. او دغه ګرد (تول) د خپلو سرونو ځنی تير صحيح اسلامی مجاهدان او د دی لوی قوماندان سيد الانس والجان په دغی سختی ځمکی کښې د خندق په کنستلو کښې په يوه حيرت پيدا کوونکی مجاهدت او د ميرانی (بهادری) په همت او غيرت مشغول وو. مجاهدين پر دغی سختی ځمکی کښې په کودال وهلو مشغول او لګيا وو او په خپلو منځونو کښې به ئې په ډير جوش او خروش سره داسی ويل.

**(نحن الذين بايعوا محمداً　على الجهاد مابقينا ابدا)**

بالمقابل زمونږ د لوی سردار حضرت محمد رسول الله سيدالابرار او افضل الاخيار له طرفه به چې هغوی هم بالذات د خندق په کنستلو کښې مشغول وو د دوی ځواب داسی ويلی کيده

**(اللّٰهم لا عيش الا عيش الآخرة　فاغفر للأنصار والمهاجرة)**

کله چې خندق تيار شو نو اسلامی مجاهدين د متعارضينو په مقابل کښې په خپلو سنګرونو او مورچو کښې تينګ ودريدل تقريباً تر پنځه ويشتو ورځو پوری دواړه فوځونه سره مخامخ پراته وو او د دغو دواړو قواوو په منځ کښې خندق حائل ؤ سره له دی چې د کفارو تعداد ډير زيات وو خو د دوی له لاسه ونشو چې له خندقه تير او پر ښار عمومی هجوم او يرغل (حمله) راوړی. مګر له لری ځنی به ئې غشی ويشتل او کله کله به د فريقينو مخصوص زلميان د مبارزی په ډګر کښې هم سره وتل. او يو له بله سره به ئې لاس او پښې پستول د مشرکينو او د بنی قريظه وو د يهودانو په منځ کښې مسلمين د محصورينو د جمعيت حيثيت درلود (لرلو) خو سره له هغه دوی تولی ښځی او ووړکی د ښار په مضبوطو او محفوظو انګرونو کښې خوندی کړل او دوی پخپله په ډير شجاعت او استقامت سره د ښار په محافظت او مدافعت کښې مؤاظبت او مراقبت کاوه. بالاخره د نعيم ابن مسعودالاشجعی رضی الله تعالیٰ عنه د يوه عاقلانه او لطيف تدبير په اثر د مشرکينو او د بنی قريظه وو د يهودانو په منځ کښې اختلاف او مشاجره واقع شوه. له بل طرفه د کفارو په زړونو کښې د الله تعالیٰ د غير مرئی فوځونو له لوری ويره او رعب وغورځاوه شو په هم دغه ضمن په يوه شپه کښې يوه سخته ويروونکی سيلی راوالوته چې د هغی په اثر د دوی تولی خيمی او کيږدی وشليدلی او له ځمکی څخه وشکولی شوی او ډيری لری ولويدلی. د دوی ګرد (تول) څاروی او حيوانات توری شول اورونه ئې مړه او ديګونه او لوښی ئې په بل مخ نسکور او ګرد (تول) سره مات او ګډود شول شکی به په داسی شدت او حدت سره الوتلی چې

د دوی سترګی او خولې پوزې او غوږونه ترې ډک پک شول. بالجمله د دغه سخت طوفان او ډیرې زوروری سیلۍ په اثر د کفارو په دغه عظیم الشان لښکر کښې چې تر ۲٤۰۰۰ تنو ځلمیانو پورې رسیدل یو راز (قسم) ګډوډي او بې‌نظمي او پریشاني ښکاره شوه او بالاخر د ډیرې یخنۍ او تیارې او دوړو او غبار له سببه ګرد (ټول) سره تار په تار او د ابوسفیان د طبل الرحیل د غږیدلو په اثر چې دی بیا د کفارو د دغه عظیم الشان لښکر لوی سر افسر و ټول په تیښته او فرار مجبور شول او ګرد (ټول) خائب خاسر بې د مرام له نیله بې هیله (بې‌طمعې) او ناامیده بیرته ستانه (واپس) شول ﴿ وَكَفَى اللَّهُ الْمُؤْمِنِينَ الْقِتَالَ وَكَانَ اللَّهُ قَوِيًّا عَزِيزًا ﴾ دغه جنګ ته د «احزاب» یا د «خندق» جنګ وائي د سخت برودت او سختو لوږو په وخت کښې د داسې خندق کنستل او د دغومره دښمنانو په مقابل کښې په میړانه (بهادرۍ) سره ټینګ ودریدل داسې اوضاع او حالات دي چې د منافقانو د زړونو پټې خبرې ئې څرګندې (ښکاره) کړې او د مؤمنینو ثبات او استقامت په ښه شان سره تثبیت شو په هم دغه جنګ کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې وروسته له دې نه به بیا کفار پر مونږ تعرض او یرغل (حمله) نه کوي بلکه بالعکس مونږ به پر هغو هجوم وړوړو لکه چې هم داسې وشول.

---

## إِذْ جَاءُوكُمْ مِنْ فَوْقِكُمْ وَمِنْ أَسْفَلَ مِنْكُمْ

(یاد کړئ) کله چې راغللې (لښکرې د کفارو) تاسې ته له پاسه (جانبه) د تاسې او له ښکته (جانبه) د تاسې

---

**تفسیر:** یعني د منورې مدینې په شرقي جانب چې جګ (وچت) دی او له غربي جانبه چې ښکته دی

---

## وَإِذْ زَاغَتِ الْأَبْصَارُ وَبَلَغَتِ الْقُلُوبُ الْحَنَاجِرَ وَتَظُنُّونَ بِاللَّهِ الظُّنُونَا ۝١٠

او کله چې کږې کږې شوې سترګې (له ډیرې ویرې) او ورسیدل زړونه چنغرکو (بیخونو د مریو) ته «له ډیره خوفه» او ګمانونه وکړل تاسو پر الله راز راز (قسم قسم) ګمانونه

---

**تفسیر:** یعني له ډیره دهشته او حیرته سترګې ردې بدې پاتې شوې او د خلقو اشکال او بنې والوتې د دوستۍ او خپلوۍ مدعیانو به ځانونه پټول او له سترګو ځنې به ئې ځان ګوښې (جدا) کاوه. او ورسیدل زړونه چنغرکو بیخونو د مریو ته یعني له ډېر خوف او هراسه زړونه لړزیدل او داسې په زور او شدت سره له خپله ځایه غورځیدل لکه چې د ستونې له لیارې د باندې راوتل. او

ګمانونه وکړل تاسو پر الله تعالیٰ راز راز (قسم قسم) ګمانونه یعنی یو به په یو شي پوهیده، او بل به بل شي اټکلاوه. مسلمانانو به داسې ګڼل چې دا ځلې یو بل قسم سخت امتحان رابانندې راغلې دی وګورو چې مونږ ته په دغه آزموینه کښې څه راپیښیږي؟ ناقص الایمان کسانو به داسې ګڼل چې اوس له دغې پیښې څخه زمونږ ژوندی وتل سخت او مشکل دی د منافقینو له احواله خو له سره پوښتنه مه کوئ چې هغوی به څه حال کښې وو؟ د منافقینو مقولې وروسته راځي.

هُنَالِكَ ابْتُلِيَ الْمُؤْمِنُونَ وَزُلْزِلُوا زِلْزَالًا شَدِيدًا ⑪

په دغه وخت کښې وازمویلې شول مؤمنان (له منافقانو څخه) او وخوځولې شول په خوځولو سختو سره (له ډیرې ویرې)

**تفسیر:** رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت حذیفة رضی الله تعالیٰ عنه ولیږه څو د دښمن صحیح احوال راوړي د دغې واقعې مفصله قصه دی په حدیث کښې ولوستله شي څو د دغه تردد او تذبذب او اندیښنې د کیفیت اندازه ترې وشي دلته د هغې د ترجمې ګنجایش نشته.

وَإِذْ يَقُولُ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ مَا وَعَدَنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ إِلَّا غُرُورًا ⑫

او (یاد کړه هغه وخت) کله چې وویل (ابن ابی ابن قیشر او نورو) منافقانو او (وویل) هغو کسانو چې په زړونو د دوی کښې مرض (د نفاق) و چه نه ده وعده کړې له مونږ سره الله او رسول د دغه (الله په فتح د شام یمن، پارس) مګر په غرور تیرایستلو سره

**تفسیر:** ځینو منافقینو به داسې ویل چې محمد صلی الله علیه وسلم به داسې دعوی کولې چې زما دین تر مشرقه او مغربه خور او منشوریږي او د روم، پارس او صنعا بنګلې او ماڼې ماته راکړې شوې دي حال دا چې اوس مسلمانان د اودس د تجدید لپاره هم له خپلو سنګرونو څخه نشي وتلی هغه وعدې چیرې لاړې؟ حضرت شاه صاحب فرمائي «مسلمانانو ته ښائي چې اوس هم د ناامیدۍ په وخت کښې د بې ایمانۍ خبرې ونه کړي!»

وَإِذْ قَالَت طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ يَٰٓأَهْلَ يَثْرِبَ

او کله چی وویل یوی طائفی له دغو (منافقانو) چی ای اهل د یثربه (مدینی)

**تفسیر:** «یثرب» د طیبی مدینی قدیمی نوم ؤ کله چی رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه ځای ته تشریف راوړ د یثرب نوم په «مدینة النبی» سره تبدیل شو.

لَا مُقَامَ لَكُمْ فَٱرْجِعُوا۟ ۚ وَيَسْتَـْٔذِنُ فَرِيقٌ مِّنْهُمُ ٱلنَّبِىَّ يَقُولُونَ إِنَّ بُيُوتَنَا عَوْرَةٌ وَمَا هِىَ بِعَوْرَةٍ ۖ إِن يُرِيدُونَ إِلَّا فِرَارًا ﴿۱۳﴾

نشته ځای (د هستوګنی) تاسی ته پس بیرته وګرځئ او اذن (د بیرته تللو) غواړی یو فریق ډله له دوی له نبی وائی (بنو حارثه او بنو سلمه) چی بیشکه کورونه زموږ تش پراته دی (له سړیو) حال دا چی نه دی تش پراته کورونه د دوی نه لری اراده دوی (په دغه تګ سره) مګر د تیښتی (له جنګه).

**تفسیر:** یعنی ګرد (تول) عرب زموږ دښمنان شول او زموږ لپاره هیچیری د توقف او د هستوګنی ځای پاتی نشو تول له اسلامی لښکرو جلا (جدا) او خپلو کورونو ته لاړ شی! رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د اسلامی مجاهدینو د باندی ولاړ وو او د ښار د مضبوطو او محفوظو انګرونو په مزید تأمین او تحکیم او په هغو کښی د ښځو او وړوکو په خوندی کولو او ځای په ځایولو کښی مشغول ؤ په دغه وخت کښی به دغو منافقینو داسی پلمی (تدبیرونه) او بهانی سره کولی چی زموږ کورونه د باندی په ډاګ ډبر میدان کښی پراته دی موږ له دی نه ویریږو نه چی غله زموږ په کورونو ولویږی او زموږ ګرد (تول) مال او شته به تالا او لوټ یوسی. دغه محض د دروغو بهانی او پلمی (تدبیرونه) وی او له داسی خبرو څخه د دوی مقصود دا و چی په کوم چل او فریب سره خپل ځان د جنګ له میدانه وباسی لکه چی هومره سړیو چی له حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اجازه وغوښتله دوی هغو ګردو (تولو) ته اجازه ورکړه او د مرخصینو د تکثیر او تزئید هیڅ پروا ئی ونه کړه. له ځینو روایتو څخه داسی معلومیږی چی فقط دری سوه قدسیه نفوس له دوی سره باقی پاتی شول.

وَلَوْ دُخِلَتْ عَلَيْهِم مِّنْ أَقْطَارِهَا ثُمَّ سُئِلُوا۟ ٱلْفِتْنَةَ لَءَاتَوْهَا وَمَا تَلَبَّثُوا۟ بِهَآ إِلَّا يَسِيرًا ﴿۱۴﴾

او که راننه ایستی شی پر دوی (دغه کفار په مدینه کښې او ترې چاپیر شی) له اطرافو د دغې (مدینې) بیا طلب وکړ شی ترې فتنه (شرک یا له مسلمانانو سره جنګ) نو خامخا رابه شی دوی هغې (فتنې) ته او ځنډ (ایسارتیا) به ونه کړی په دغې (قبول د فتنې) کښې مګر لږ

**تفسیر:** یعنی منافقان د دروغو حیلې او بهانې جوړوی. فرض ئې کړئ که دغه کسان په ښار کښې هم وی او کوم یو دښمن د دې خوا یا د هغې خوا راشی یا پر دوی ورتوی شی او له دوی څخه داسې یوه مطالبه وکړی چې د اسلام دغه دین پریږدئ چې تاسې ظاهراً هغه منلی دی یا ورته وویل شی چې راځئ چې له مسلمانانو سره وجنګیږو نو دوی سم د لاسه د جنګ او فتنې او فساد اچولو لپاره ولاړ او تیاریږی او په دغه وخت کښې د دوی دغه مکر او فریب او دروغ په ښکاره دول (طریقه) سره ظاهریږی. ځکه چې علی الفور دوی د کفارو د هغو مطالباتو د تعمیل لپاره خپلې ملاوې ترې او د دوی مرستې (مدد) او تائید ته چټ پټ ودریږی. نه به د خپلو کورونو د خالی کیدو او بې سر پرستۍ او د ساتلو عذر وړاندې کوی او نه د هغو د غلا او لوټیدلو او په تاراج تللو څخه څه اندیښنه کوی ماسوا له هغه توقفه چې په دغو مذاکراتو او د وسلې په اخیستلو کښې واقع شوی دی بلا توقف علی الفور د مسلمانانو د جنګ لپاره دوی حاضریږی او د اسلام د دغې ظاهری دعوی څخه هم لاس اخلی او بې له کومې معطلې او ډیل سریعاً د جنګ په اور کښې خپل ځانونه غورځوی.

وَلَقَدْ كَانُوا عَاهَدُوا اللَّهَ مِنْ قَبْلُ لَا يُوَلُّونَ الْأَدْبَارَ ۚ وَكَانَ عَهْدُ اللَّهِ مَسْئُولًا ﴿۱۵﴾

او خامخا په تحقیق وو دوی چې وعده ئې کړی وه له الله سره پخوا له دې نه چې وبه نه ګرځوی (په جنګ کښې) شاوې خپلې (او نه به تښتې)، او دی عهد د الله پوښتیدلی شوی (په قیامت کښې له وفاء کولو سره).

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی چې «وروسته د احد له جنګه منافقانو اقرار کړی وو چې بیا به مونږ داسې یو حرکت ونه کړو» د دغه مخالفت پوښتنه به الله تعالیٰ له دوی ځنې وکړی چې ستاسې هغه قول او اقرار چیرې لاړ ؟ یعنی بنو حارثه او بنو سلمه د احد په غزوه کښې هم له لیارې څخه بیرته ګرځیدلی وو او بیا پښیمان شول او له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ئې عهد وکړ چې بیا به له جنګه نه تښتو دغه دی چې دوی اوس بیا هم هغسې

وکړل.

قُلْ لَّنْ يَّنْفَعَكُمُ الْفِرَارُ اِنْ فَرَرْتُمْ مِّنَ الْمَوْتِ اَوِ الْقَتْلِ وَاِذًا لَّا تُمَتَّعُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿١٦﴾

ووایه (ای محمده دوی ته) چې له سره به نفعه نه رسوی تاسی ته تیښته که چیری وتښتئ تاسی له مرګه یا له قتله او کله چې وتښتیدئ نو ژوندی به پاتی نه کړی شئ مګر لږ (مدت)

**تفسیر:** یعنی د هر چا په قسمت کښې چې مرګ دی هغه هیڅیری په تښتیدلو سره له مرګه ځان نشی ژغورلی (بچ کولی) د الله تعالیٰ قضاء هر چیری انسان ته رسیږی او که اوس مرګ ستاسی لپاره نه وی مقدر نو له میدانه څخه تښتیدل بیکاره دی آیا دوی د جنګ په میدان کښې تول وژل کیږی ؟ او فرض ئې کړئ که د جنګ له میدانه وتښتئ نو بیا به له مرګه مامون یئ ؟ آیا دغه مامونیت به تر څو پوری وی ؟ بالاخر مرګ خو راتلونکی دی که اوس رانشی. نو څه موده وروسته خو خامخا راتلونکی دی ولی معلوم نه دی چې په څه ذلت او خواری سره ؟

قُلْ مَنْ ذَا الَّذِيْ يَعْصِمُكُمْ مِّنَ اللّٰهِ اِنْ اَرَادَ بِكُمْ سُوْٓءًا اَوْ اَرَادَ بِكُمْ رَحْمَةً ۭ وَلَا يَجِدُوْنَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿١٧﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) څوک دی هغه (ذات) چې وساتی تاسی له (عذابه) د الله که چیری اراده وفرمائی الله په تاسی باندی د بدی (هزیمت) یا اراده وفرمائی په تاسی باندی د رحمت، نصرت او نه به مومی دوی خپلو ځانونو ته بې له الله کوم دوست (نافع) او نه کوم مددګار (دافع د ضرر).

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ اراده هیڅ یو زور او طاقت نشی ګرځولی نه کومه حیله او تدبیر د هغه په مقابل کښې کار کولی شی انسان ته لازم دی چې پر پاک الله توکل وکړی او په هر حالت د الله تعالیٰ د مرضی غوښتونکی وی که نه د دنیا نیکی یا بدی، سختی یا نرمی خو یقیناً رسیدونکی دی نو بیا د الله تعالیٰ د احکامو په تعمیل او د ده په لیار کښې به ولی انسان خوف، ویره او ډار له خپله ځانه ښکاره کړی. او په لازمه وخت کښې ولی ځان تری بیل او لری

کړی او په لوی لاس خپل عاقبت خراب کړی او له تکلیفه ځخه هم خپل ځان خلاص نشی کړئ تاسو خو د عربو له مخالفت ځخه ویریږئ او دغه فکر او اندیښنه له تاسو سره نشته چه الله تعالیٰ حکم وکړی مسلمانان تاسو علی الفور وژنی.

قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ الْمُعَوِّقِيْنَ مِنْكُمْ وَالْقَآئِلِيْنَ لِاِخْوَانِهِمْ هَلُمَّ اِلَيْنَا ۚ وَلَا يَأْتُوْنَ الْبَاْسَ اِلَّا قَلِيْلًا ۙ﴿۱۸﴾

په تحقیق ښه معلوم دی الله ته منع کوونکی (له جهاده) له تاسی او ویونکی ورونو خپلو ته (چی) راشئ زمونږ په لوری (چی آرام او هوسائی(راحت) وکړئ) او نه راځی دوی جنګ ته مګر لږ (کله نا کله)

**تفسیر:** یعنی د خودنی، ریاء او ظاهرداری له سببه یا له شرم او ننګ او د نورو په ترهیب او ترغیب کله کله د جنګ میدان ته راځی او د نورو حقیقی مجاهدینو په څنګ کښی ودریږی. که نه عموماً دوی پخپلو کورونو کښی او په خپل عیش او عشرت، مزو او چرچو کښی مشغولیږی او خپلو نورو عزیزانو او خپلوانو ته چی صادق مسلمانان دی هم وائی چی جهاد ته مه ځئ ! او دوی جهاد ته له وتلو ځخه منع کوی.

اَشِحَّةً عَلَيْكُمْ ۖۚ

بخیلان دی (په اعانت له تاسی سره او انفاق) پر تاسی

**تفسیر:** یعنی د مسلمانانو د امداد او معاونت ځخه ځان ساتی او د دوی له هر قسم همدردی او خیر غوښتلو او خیر رسولو ځنی بخل کوی. هو که د غنیمت مواقع راشی نو د ډیر حرص او طمع لامله (له وجی) غواړی چی بل هیڅ ته دی هیڅ شی ورنه کړه شی او دغه ګرد (ټول) مال او غنیمت دی یواځی زمونږ برخه شی او په هم دغه امید او هیله (طمع) ځینی په جنګونو کښی هم حسب الظاهر شرکت کوی.

فَاِذَا جَآءَ الْخَوْفُ رَاَيْتَهُمْ يَنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ تَدُوْرُ اَعْيُنُهُمْ كَالَّذِيْ يُغْشٰى

عَلَيۡهِ مِنَ الۡمَوۡتِۚ فَاِذَا ذَهَبَ الۡخَوۡفُ سَلَقُوۡكُمۡ بِاَلۡسِنَةٍ حِدَادٍ اَشِحَّةً عَلَى الۡخَيۡرِؕ

پس کله چې راشي ویره (د دښمن) نو وبه وینې ته دوی ګوري به دوی تاته (ترهور) چې چاپیر به چورلي (ګاتي د) سترګو د دوی په شان د هغه انسان چې بیهوشي راوستلې شوې وي پر هغه له (وجه د سکراتو د) مرګه پس بیا کله چې لاړه شي دغه ویره (او تول شي غنائم) نو ضرر دررسوي دوی تاسي ته په ژبو تیرو سره په دغه حال چې بخیلان (حارصان) وي په خیر (او لاس اچوي پر غنیمت)

**تفسیر:** یعني د سختی او تنګسی په وخت کښې د رفاقت څخه څانونه بیرته واپس کوي او له ډیرې ویرې ئې ساه راخیژي وروسته له برې او فتح راځي او له خپله څانه خبرې جوړوي او خپل شجاعت او میرانه (بهادري) ښکاروي او له ډیر حرص او طمع د غنیمت پر اموالو پړمخي نسکور لویږي. یا ئې دا مطلب چې د اسلام او مسلمانانو پر خلاف په طعنو او تشنیعو کښې خوله سپړي او ژبه کوي.

اُولٰٓئِكَ لَمۡ يُؤۡمِنُوۡا فَاَحۡبَطَ اللّٰهُ اَعۡمَالَهُمۡؕ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيۡرًا ۝١٩

دغه ( کسان د جنګ ګیدړان او د ولجې زمریان) ایمان ئې نه دی راوړی (په اخلاص سره) پس خراب (باطل) کړل الله عملونه د دوی او دی دغه (ابطال د اعمالو) پر الله آسان

**تفسیر:** یعني تر څو پر الله تعالیٰ او رسول الله ایمان رانه وړي د دوی هیڅ یو عمل نشي مقبول واقع کیدی. حضرت شاه صاحب لیکي « کوم ځای کښې چې د حبط الاعمال ذکر دی نو فرمائي چې الله تعالیٰ ته آسانه ده یعني ظاهراً د الله تعالیٰ عدل او احسان ته کتلی دغه امر صعب او مشکل راښکاري چې څرنګه به پاک الله د چا محنت او اجر ضایع کوي ؟ لیکن دغه کار څکه سخت او مشکل نه دی چې پخپله په هم هغه عمل کښې داسې یو نقص او خرابي پته وي، چې په هیڅ صورت هغه عمل پرې نه صحیح او نه درست کیږي لکه «د بې ایمان عمل» چې ایمان ورته شرط او روح ئې دی او هر عمل بې له هغه مړ او بې نتیجې دی نو څرنګه به قبلیږي. کافر هومره محنت چې وکړي او رېړونه (تکلیفونه) وګالي (برداشت کړي) ګرد (تول) ئې ابته (خراب) او بیکاره ځي.

يَحۡسَبُوۡنَ الۡاَحۡزَابَ لَمۡ يَذۡهَبُوۡاۚ وَاِنۡ يَّاۡتِ الۡاَحۡزَابُ يَوَدُّوۡا

لَوْ اَنَّهُمْ بَادُوْنَ فِی الْاَعْرَابِ یَسْاَلُوْنَ عَنْ اَنْۢبَآئِكُمْ ؕ

گمان کوی «دغه منافقان» پر لښکرو (د کفارو) چې نه دی تللی (بیرته په ماتی) او که چیرته بیا راشی لښکر د (کفارو جنګ ته) نو دوست ګڼی (منافقان) دا چې کاشکی دوی اوسیدونکی وی په (لریو کلیو د) اعرابو کښې (له ښاره) چې پوښتنی به ئی کولی (له لری) له (احوالو) خبرو ستاسی.

**تفسیر:** یعنی د کفارو لښکری ناکامه بیرته لاړی لیکن دغه ویریدونکی منافقان لا تراوسه هم نه دی متیقن چې هغوی ماتی موندلی ده او فرض ئی کړئ که د کفارو افواج بیا بیرته وګرځی او پر مسلمانانو حمله او یرغل وکړی نو د دوی هم دغه هیله (امید) او تمنا وه که وروسته له دی نه د جنګ تر ختمه پوری بیخی په ښار کښې هم ونه اوسیږی او چیرته کوم کلی ته ولاړ شی او هم هلته لری ناست ننداری وکړی او له تلونکیو او راتلونکیو څخه پوښتنی وکړی چې مسلمانان څه حال لری ؟ او د جنګ نخچه (نقشه) او وضعیت څرنګه دی ؟

وَلَوْ كَانُوْا فِیْكُمْ مَّا قٰتَلُوْۤا اِلَّا قَلِیْلًا ؑ ﴿۲۰﴾

او که چیری وی (دغه منافقان) په تاسی کښې نو جنګ به ئی نه وو کړی دوی مګر لږ «دپاره د ریاء»

**تفسیر:** یعنی د خولی پر خبرو کښې ستاسی خیر غوښتنه په ظاهری دول (طریقه) سره ښکاره کوی او په جنګ کښې زیات کار نه کوی او تش د مجبوریت او ضرورت لامله (له وجی) چې نوم ئی وشی په جنګ کښې شرکت کوی.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِیْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ كَانَ یَرْجُوا
اللّٰهَ وَالْیَوْمَ الْاٰخِرَ وَذَكَرَ اللّٰهَ كَثِیْرًا ؕ ﴿۲۱﴾

خامخا په تحقیق دی تاسی ته (ای ویریدونکیو) په (کار د) رسول الله کښې اقتداء غوره نیکه دپاره د هغه چا چې وی دی چې داریږی د الله (او امید لری د رضاء او د لقاء ئی) او (د ثواب د نعمتونو د) ورځی وروستنی (د

قیامت) او یادوی الله ډیر (هم په خوله هم په زړه هم په راحت هم په زحمت)

**تفسیر:** یعنی رسول الله ته وګورئ ! چی په دغو سختیو او مصاعبو کښی څرنګه ثبات او استقلال لری حال دا چی له ګردو (تولو) څخنی د زیاتی اندیښنی او فکر زور پر دوی لوېږی مګر امکان نه لری چی لږ څه د دوی په استقلال او استقامت کښی تزلزل او فتور واقع شی هغه خلق چی د الله تعالیٰ د رضاء او لقاء هیله من (امیدوار) او د آخرت د ثواب د حصول امیدوار دی او په کثرت سره د الله تعالیٰ په ذکر او یاد کښی مشغول دی د هغوی له پاره د رسول الله ذات ډیر ښه اسوه او خورا (ډیر) ښه نمونه ده ښائی چی دوی په عباداتو، معاملاتو ماکولاتو، مشروباتو، ملبوساتو، حرکاتو، سکناتو، الاتو، ادواتو، محارباتو، جود، سخا، صبر، تحمل بلکه په هر حرکت او سکون او ناسته او ولاړه کښی د دغه جامع الصفات، منبع البرکات ذات د قدم پر نقش حرکت وکړی ! او په همت او شجاعت او استقلال او استقامت او ثبات او حیات کښی د دوی د عمل د طرز متابعت کوی ! او په ښه شان سره ئی زده کړی !

وَلَمَّا رَاَ الْمُؤْمِنُوْنَ الْاَحْزَابَ ۙ قَالُوْا هٰذَا مَا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَصَدَقَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ ۫ وَمَا زَادَهُمْ اِلَّآ اِیْمَانًا وَّتَسْلِیْمًا ؕ﴿۲۲﴾

او کله چی ولیدلی مؤمنانو لښکری (د کفارو) نو وویل (مؤمنانو) دا هغه دی چی وعده کړی ده له مونږ سره الله او رسول د دغه (الله د نصرت) او رښتیا ویلی ؤ الله او رسول د دغه (الله په وعده کښی) او زیات نه کړ دغو (لښکرو د کفارو) مؤمنانو ته مګر ایمان او تسلیم (احکامو د الله ته)

**تفسیر:** یعنی کله چی پخو مسلمانانو ولیدل چی د کفارو افواج سره یو ځای شوی دی او له څلورو خواؤ څخه پر مونږ راتوئیږی نو د دی په ځای چی متردد، مذبذب یا وارخطا شی د دوی د وفاداری، اطاعت شعاری په جذباتو کښی تزئید واقع شو او د دوی یقین او باور د الله تعالیٰ او د رسول الله پر وعدو لا زیات شو. او دوی به داسی ویل چی دغه خو هم هغه منظره ده چی د هغه خبر الله تعالیٰ او رسول الله پخوا له دی نه ورکړی وو. او د ده په متعلق د الله تعالیٰ وعده لا له پخوا څخه شوی وه لکه چی د (البقرة) د سورت په (۲۶) رکوع ۲۱٤ آیت کښی ئی فرمائلی دی

﴿ اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا یَاْتِكُمْ مَّثَلُ الَّذِیْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ ؕ مَسَّتْهُمُ الْبَاْسَآءُ وَالضَّرَّآءُ وَزُلْزِلُوْا حَتّٰی یَقُوْلَ الرَّسُوْلُ وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ مَتٰی نَصْرُ اللّٰهِ ؕ اَلَآ اِنَّ نَصْرَ اللّٰهِ قَرِیْبٌ ﴾

او د (ص) د سورت په (۱) رکوع ۱۱ آیت (۲۳) جزء کښی چی مکی دی فرمایلی دی

﴿ جُنْدٌ مَّا هُنَالِكَ مَهْزُوْمٌ مِّنَ الْاَحْزَابِ ﴾

مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا عَاهَدُوا اللّٰهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَّنْ قَضٰى نَحْبَهٗ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوْا تَبْدِيْلًا ﴿۲۳﴾

ځینی له مؤمنانو څخه (داسی) سړی دی چی رښتیا کړی ئی ده هغه خبره چی عهد کړی ؤ دوی له الله سره په هغه باندی (چی ثبات، استقامت فی القتال دی) پس ځینی له دوی هغه دی چی تر سره ئی کړ نذر خپل «چی مړ شو یا شهید» او ځینی له دوی هغه دی چی انتظار کوی (دغه مرګ یا شهادت ته) او بدل ئی نه کړ (عهد خپل یوه ذره هم) په بدلولو سره

**تفسیر:** یعنی هغه وعده چی منافقینو کړی وه او د هغی ذکر په پخوانی رکوع کښی په دغو الفاظو سره شوی ؤ ﴿ وَلَقَدْ كَانُوْا عَاهَدُوا اللّٰهَ مِنْ قَبْلُ لَا يُوَلُّوْنَ الْاَدْبَارَ ﴾ هغه ئی ماته کړه او په ډیری بیحیائی او بی شرمی سره د جنګ له میدانه په تښتګ شول پرعکس د دوی ډیر زیات داسی پاخه مسلمانان هم شته چی هغو خپل عهد او پیمان په صداقت او امانت پای (آخر) ته ورسوه او د ډیرو زیاتو مصاعبو او متاعبو او سختیو په اوقاتو کښی هم د دین له حمایته او د رسول الله له نصرته، او د مسلمانانو له رفاقته یو قدم هم بیرته پاتی نه شول کوم عهد او پیمان او ژبه چی دوی د الله جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره کړی وه د غره په شان پری تینګ ولاړ ؤ له دوی نه خو ځینی کسان هغه دی چی خپله ذمه واری ئی پوره کړی وه یعنی په جهاد کښی د شهادت په درجه نائل شوی دی لکه د «بدر» او «احد» شهداء چی په دوی کښی د حضرت انس بن النضر رضی الله تعالیٰ عنه قصه ډیره مشهوره ده او زیات مسلمانان هغه دی چی په ډیره مینه او اشتیاق سره د فی سبیل الله موت په انتظار کښی دی. او دی ته ګوری چی کله کومه محاربه راپیښیږی چی مونږ په هغی کښی د شهادت په درجه نائل شو. په هر حال دغه دواړه قسمه مسلمانان چی د الله په لیاره کښی ئی ځان قربان کړی دی، یا د شهادت مشتاق دی د خپلو عهدو او پیمانونو پوره حفاظت ئی کړی دی او له خپلو خبرو څخه ئی د یوه ذری په اندازه هم تجاوز نه دی کړی.

**فائده:** په حدیث کښی نبی کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم طلحة رضی الله تعالیٰ عنه ته وفرمایل «**هذا ممن قضی نحبه** دغه له هغو کسانو څخه دی چی خپله ذمه واری ئی پای (آخر) ته رسولی ده» ګواکی دی ئی په حیات کښی شهید درولی دی. دی هغه اعظم مجاهد دی چی د «احد» په غزا کښی ئی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حفاظت کښی د کفارو له غشو څخه په خپل وجود سره مدافعه فرمایله او په دغه ضمن کښی ئی لاس هم د خیر الناس څخه جار (قربان) شو رضی الله تعالیٰ عنه وارضاه.

لِّيَجْزِيَ اللّٰهُ الصّٰدِقِيْنَ بِصِدْقِهِمْ وَيُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِيْنَ اِنْ شَآءَ اَوْ يَتُوْبَ عَلَيْهِمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۲۴﴾

دپاره د دې چې جزاء ورکړی الله رښتینو ته په (سبب د) رښتیني د دوی او په عذاب به کړي منافقان که اراده وفرمائي (د تعذیب ئې) یا رجوع په رحمت سره وکړي پر دوی (چې ایمان راوړي) بیشکه چې الله دی ښه بښونکی (د خطیاتو) ډیر رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره)

**تفسیر:** یعني هغو ته چې په خپل عهد باندی تینګ ولاړ ؤ او په خپل قول او اقرار کښې رښتین پاتې شوی دی پر دغه د رښتیا تینګ پاتې کیدلو بدل به وررسیږي بد عهد او دغابازانو منافقانو ته که اراده وفرمائي سزا ورکوي او که اراده وفرمائي د توبې توفیق ور په برخه کوي او معافوي ئې او دغه د الله تعالیٰ له مهرباني څخه بعید نه دی.

وَرَدَّ اللّٰهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِغَيْظِهِمْ لَمْ يَنَالُوْا خَيْرًا ۭ

او بیرته وشړل الله (له مدینې نه) هغه کسان چې کافران شوي وو (په ماتې بې له جنګه) سره له قهره خپله (ډک زړونه) چې وئې نه موند هیڅ خیر (بری پر مؤمنانو)،

**تفسیر:** یعني د کفارو افواجو سره له ذلت او ناکامۍ په دغه حال کښې چې سره تاوونه او پیچونه ئې خوړل او له ډیره قهره او غصې څخه به ئې غاښونه چیچل د جنګ میدان ئې پرېښود او بیرته خائب او خاسر خپلو کورونو ته لاړل هو! د عمرو بن عبدود په شان د کفارو ډیر نومیالي (نوموړي) سور چې خلقو به ده ته د یو زرو سورو په شان اهمیت ورکاوه په دغه جنګ کښې د سیدنا علي کرم الله وجهه په توره ووژل شو مشرکینو وغوښته چې مونږ تاسې ته لس زره دیناره درکوو خو د عمرو بن عبدود مړی مونږ ته راکړی ! رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې «راځئ په ډیره خوښۍ سره خپل مړی یوسئ او پیسې دی هم ستاسې وي ولې چې مونږ د مړي د پیسو خوړونکي نه یو»

وَكَفَى اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ الْقِتَالَ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ قَوِيًّا عَزِيْزًا ﴿۲۵﴾

او کفایت وکړ الله مؤمنانو ته د جنګ کولو (په امداد د پرښتو) او دی الله قوی ښه زورور (په انفاذ د احکامو) ډیر زبردست (په هر چا او په هر شی)

**تفسیر:** یعنی له مسلمانانو سره د عمومي جنګ او جګړی وار ونه رسید، الله تعالیٰ په خپل قدرت سره ډیره سخته سیلی پر دوی مسلطه کړه او د پرښتو لښکر ئی ورولیږه، او داسی آثار ئی پیدا کړل چی کفار په خپل سر وارخطاء او پریشان شول او فرار ئی پر قرار اختیار کړ د پاک الله د زورور او زبردست قوت په مقابل کښی څوک ودریدی شی ؟

وَاَنْزَلَ الَّذِيْنَ ظَاهَرُوْهُمْ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ مِنْ صَيَاصِيْهِمْ وَقَذَفَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبَ فَرِيْقًا تَقْتُلُوْنَ وَتَاْسِرُوْنَ فَرِيْقًا ﴿۲۶﴾

او راکوز کړل (الله) هغه کسان چی کومک ئی کړی ؤ له دغو (ډلو د احزابو) سره له اهل د کتابه (چی بنی قریظه ؤ) له کلاګانو د دوی او وغورځوله (الله) په زړونو د دوی کښی ویره (د رسول الله او د مؤمنانو) یوه ډله ووژله تاسی او بندی کوله به تاسی بله ډله.

**تفسیر:** دغه د بنی قریظه ؤ یهودان دی چی د منوری مدینی په شرقی جانب کښی د دوی یوه ټینګه او مضبوطه کلا وه او دوی لا له پخوا له مسلمانانو سره د روغی معاهده درلوده (لرله) لیکن دغه د احزابو په جنګ کښی (دحیی بن اخطب) په اغوا او لمسونه دوی هغه ګرد (ټول) معاهدات نقض کړل او د مشرکینو په امداد ودریدل له دوی څخه ځینو کسانو پر مسلمانی ښځی هم حمله کړی وه چی د دوی د حملی جواب حضرت بی بی صفیه رضی الله تعالیٰ عنها په ډیر شجاعت سره ورکړی ؤ کله چی د قریشو کفار عاجز او ناچاره شول او بیرته لاړل نو بنی قریظه په خپلو ټینګو او مضبوط کلاو کښی ننوتل او دروازی ئی کلکی وتړلی کله چی حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم د احزابو له جنګه فارغ شو او په غسل او نورو تطهیراتو مشغول ؤ حضرت جبرئیل علیه السلام تشریف راووړ حال دا چی د جبرئیل علیه السلام پر څهره هم د دوړو او غبار آثار وو او وی ویل یا رسول الله! تاسی له خپل ځانه وسلی ایسته کړی دی حال دا چی پرښتی لا هم هغسی مسلحی پخپلو وظایفو کښی مشغولی دی الله تعالیٰ حکم درکوی چی پر بنی قریظه ؤ دی حمله وکړه شی! فوراً منادی وشوه چی «د بنی قریظه ؤ عهد ماتوونکیو یهودیانو باندی د یرغل (حملی) ورولو حکم دی!» نو اسلامی افواجو په منتهی سرعت او شطارت (جلتی) سره د دوی کلاوی تر محاصری لاندی ونیولی دغه محاصره تر څلیرویشتو یا پنځه ویشتو ورځو وه، بالاخر محصورین ناطاقته شوه او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حضور د پیغامونو په

لیږلو ئی شروع وکړه بالاخر د دوی له طرفه دغه خبره ومنله شوه چی «مونږ له خپلو کلاو څخه د باندی راوځوو او د «اوس» د قبیلی مشر حضرت سعد بن معاذ رضی الله تعالیٰ عنه خپل منځګړی حکم او منصف دروو ځکه چی هغه د دوی حلیف ؤ هر هغه فیصله چی سعد زمونږ په نسبت صادره کړی مونږ ئی منو» د دوی دغه خبره رسول الله صلی الله علیه وسلم هم ومنله لنده ئی دا چی حضرت سعد تشریف راوړ د یوه مسلم حکم په حیثیت ئی فیصلی وکړه چی «د بنی قریظه ؤ ګرد (تول) جنګی زلمیان دی ووژلی شی ! او ښځی او وړوکی دی تول د مریتوب په قید کښی ونیولی شی ! او د دوی د داسی بد عهدی سزا هم داسی وه او دغه فیصله بیخی د مسلم او منلی شوی آسمانی کتاب (توریت) د احکامو سره موافقه وه. لکه چی د توریت په کتاب د استثناء په (۲۰) اصحاح (۱۰) آیت کښی مسطور دی «کله چی پر کوم ښار د حملی په قصد ورځئ نو ړومبی هغوی ته د روغی پیغام ولیږی ! که هغوی له تاسی سره روغه وکړه او تاسی ته ئی دروازی پرانستلی نو هومره خلق چی هلته موجود دی هغه به ګرد (تول) ستاسی مریان کیږی لیکن که هغوی له تاسی سره روغه ونه کړه نو هغوی محصور کړئ او کله چی ستاسی الله تاسی ته پر هغوی بری او فتح درکړه او هغوی ستاسی په قبضه کښی راغلل نو د دوی تول نارینه سره ووژنئ ! باقی ووړکی، ښځی او ساکښان (جاندار) او نور شیان هومره چی په هغه ښار کښی موجود وی هغه ګرد (تول) تاسی ته غنیمت دی » سم له دغی فیصلی سره څو سوه زلمی یهودان ووژل شول او څو سوه ښځی او ووړکی قیدیان شول او د دوی پر املاکو او اموالو مسلمانانو قبضه وکړه.

وَاَوۡرَثَكُمۡ اَرۡضَهُمۡ وَدِيَارَهُمۡ وَاَمۡوَالَهُمۡ وَاَرۡضًا لَّمۡ تَطَـُٔوۡهَا ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ قَدِيۡرًا ﴿۲۷﴾

او په میراث ئی درکړه تاسی ته ځمکه د دوی او کورونه د دوی او مالونه د دوی او هغه ځمکه چی نه وه پایمال کړی تاسی هغه (په ځغلولو د آسونو سره) او دی الله پر هر څیز باندی (چی اراده وفرمائی) ښه قادر (چی ځینی ئی فتح د امصار دی په لاسونو د ابرارو)

**تفسیر:** دغه ځمکه چی منوری مدینی ته نژدی ده په لاس ورغله رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه پر مهاجرینو باندی تقسیم کړه او په دغه سره د دوی د معاش وسیله پیدا شوه او د دوی د ژوندون بار د انصارو له اوږو څخه لری شو. له نورو ځمکو څخه مراد د خیبر ځمکی دی چی له دغی واقعی څخه دوه کاله وروسته د مسلمانانو په لاس ورکړی شوی او په هغو سره د نبوی اصحاب آرام او هوسا (خوشاله) شول. ځینی وائی چی بله ځمکه معظمه مکه ده ځینی تری د

پارس او روم ځمکی مرادوی چی وروسته له رسول الله صلی الله علیه وسلم د راشده ؤ خلفاؤ رضی الله تعالیٰ عنهم په لاس مفتوح شوی. ځینی وائی تر قیامت پوری هومره ځمکی چی د مسلمانانو په لاس فتح کیږی هغه ګردی (تولی) په دی کښی شاملی دی والله اعلم.

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ إِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَوٰةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا ﴿٢٨﴾ وَإِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الْآخِرَةَ فَإِنَّ اللَّهَ أَعَدَّ لِلْمُحْسِنَاتِ مِنْكُنَّ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٢٩﴾

ای نبی ووایه ته ښځو خپلو ته که چیری یئ تاسی چی غواړی هم دغه ژوندون لږ خسیس او ښایست رونق د هغه پس راشئ چی څه فایده دروروسوم (د متعه طلاق درکړم) تاسی ته او خوشی کړم تاسی په خوشی کولو نیکو سره او که یئ تاسی چی اراده لرئ د الله او د رسول د دغه (الله) او د کور د آخرت (او د نعمتونو د جنت) پس بیشکه الله تیار کړی دی دپاره د نیکی کوونکیو (ښځو) له تاسی نه اجر ډیر لوی (ثواب زیات په جنت کښی)

**تفسیر:** د رسول الله مطهراتو ازواجو کله چی ولیدل تول خلق ماړه او هوسا (خوشاله) شول نو وی غوښتل چی ښائی زمونږ د ژوندون وسائل هم په ښه صورت سره شی! نو له دوی څخه ځینو بیبیانو له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په دغه مورد کښی خبری اتری وکړی او تری وی غوښتل چی زمونږ د مزیدو نفقو او سامانونو تهیه وفرمائی! خو مونږ هم لکه د نورو مسلمانانو په شان په عیش سره ژوندون وکړی شو. پر رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه خبره شاقه تیره شوه او قسم ئی یاد کړ چی تر یوی میاشتی پوری به د هیڅ یوی بی‌بی کره نه ورځی. مسجد ته قریب په یوی پاسنی کوټه (مشربه) کښی دیره شو صحابه له دغه وضعیت څخه مضطرب شول. حضرت ابوبکر رضی الله تعالیٰ عنه او عمر رضی الله تعالیٰ عنه په دغه فکر کښی ولویدل چی په څه ډول (طریقه) سره دغه جګړه له منځه لری شی له دوی سره زیاته اندیښنه د دوی د لونو بی‌بی عایشه رضی الله تعالیٰ عنها او بی‌بی حفصه رضی الله تعالیٰ عنها وه چی هغوی رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپلو ځانونو خپه او غمجن نه کړی او بالوسیله خپل دین او دنیا دواړه له لاسه ور نه کړی. دوی دواړه پر هغوی دواړو په قهر شول او په خپلو خطاؤ ئی وپوهولی بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حضور مشرف شول او له هغوی سره ئی د انس او د بی‌تکلفی څه خبری او اتری وکړی څو د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک طبیعت لږ څه خوښ او منشرح شو. بالاخره یوه میاشت وروسته دغه د تخییر آیت نازل شو یعنی خپلو ښځو ته په صافو الفاظو سره ووایه چی له

دوو خبرو ځني ښائي دوی یوه خبره ځان ته غوره او اختیاره کړي که دوی دنیوي عیش او عشرت او د امیرانو په شان ژوندون غواړي نو دوی ته ووایه چې زما او ستاسي ژوندون سره سخت او مشکل دی او نه سره جوړیږو نو راځئ چې زه تاسي ته څه یعني د جامو هغه جوړه چې مطلقاتو ته ورکوله کیږي درکړم او په ډېر ښه صورت سره مو مرخصي کړم یعني په شرعي طریقه سره تاسي ته طلاق درکړم او که د الله تعالیٰ او د رسول الله خوښي او د آخرت د اعلیٰ مراتبو طالبات یئ نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د پاتي کیدلو له سببه به هغه دررسیږي هره هغه بي‌بي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم کره پخپله خوښه او زړه پاتي کیږي او په صلاحیت سره ژوندون کوي د الله تعالیٰ له طرفه هغي ته خورا (ډېر) لوی اجر تیار کړی شوی دی له دغه ځني به نور څه ښه شي وي چې په جنت کښي له ګردو (تولو) ځني په اعلیٰ او ارفع مقام کښي له سیدالانام علیه افضل الصلوٰة والسلام سره اوسیږي ! د دغه آیت له نزوله وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم کور ته تشریف یووړ او ړومبی ئی د الله تعالیٰ دغه حکم بي‌بي عایشي صدیقي رضی الله تعالیٰ عنها ته واوراوه دی د الله او د رسول الله مرضي ځان ته غوره کره وروسته له هغه نورو ګردو (تولو) ازواجو هم داسي وکړه او د دنیا د عیش او عشرت تصور ئی له خپلو زړونو څخه وویست. د رسول الله صلی الله علیه وسلم په کورونو کښي به همیشه اختیاري فقر او فاقه موجوده وه څه شي چې دوی کره راتله سم د لاسه به په مصرف رسیده بیا به ئی په قرض او پور خپل حیات تیروه پر هم دغسي ژوندون مطهرات ازواج راضي ؤ او دغه ئی چې فرمایلي دی «هر هغه چې پر نیکی دی هغه ته به لوی ثواب وی» د رسول الله صلی الله علیه وسلم ازواج تول سره نیک ؤ ﴿وَالطَّيِّبٰتُ لِلطَّيِّبِيْنَ﴾ مګر الله تعالیٰ په قرآن کښي صاف بشارت چاته نه ورکوی تر څو ئی بندګان بی خوفه نشي او تل په خپل حسن الخاتمه پسي سعي وکړي او هم دغه ښه ده وروسته هغو ښځو ته خطاب دی چې د نبي معیت ئی اختیار کړی دی چې د دوی درجي د هغه نسبت له وجي ډیري لوړي (اوچتي) دی نو ښائي چې د دوی اخلاقي او روحاني حیات هم پر هغه معیار وي چې د هغه رفیع مقام سره مناسب دی ځکه چې علاوه د دوی پر ذاتي عظمت دوی امهات المؤمنین دی او پر میندو د اولادو زیاته ذمه واري عائدیږي او لازم دی چې د دوی اعمال او اخلاق د امت لپاره حسنه اسوه وګرځي.

---

يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ مَنْ يَّاْتِ مِنْكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ يُّضٰعَفْ لَهَا الْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ ۭ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿۳۰﴾

---

ای ښځو د نبي هر څوک چې راشي له تاسي په یوه کار ناکاره ښکاره (چې دغه عصیان دی له رسول الله نه) نو دوچنده به کړ شي هغي ته عذاب په دوچند (د عذاب د نورو ښځو) او دی دغه (دوچندی د عذاب) پر الله آسان

**تفسير:** د لويانو غلطي هم لويه وي كه بالفرض له تاسي ځني له كومي يوي د بد اخلاقي كوم فعل صادر شي نو هغه سزا چي نورو ته پر هغه عمل وركوله كيږي د هغه دوچنده تاسو ته دركوله كيږي او دا كار الله تعالىٰ ته آسان دى يعني ستاسي وجاهت او د زوجيت نسبت د الله تعالىٰ د عقوبت څخه له سره څه ممانعت نشي كولى.

وَمَنْ يَّقْنُتْ مِنْكُنَّ لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتَعْمَلْ صَالِحًا نُّؤْتِهَآ اَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ ۙ وَاَعْتَدْنَا لَهَا رِزْقًا كَرِيْمًا ﴿۳۱﴾

او هر څوک چه (تل) اطاعت وکړی له تاسی الله او رسول د دغه (الله) ته او عمل کوی د نیکیو نو ور به کړو مونږ هغی (ښځی) ته اجر د هغی دوه کرته (دوه مثله د ثواب د نورو ښځو) او تیار کړی دی مونږ هغی ته رزق روزی نیکه (زیاته په جنت کښی)

**تفسیر:** یعنی پر نیکی او اطاعت هغومره اجر چی نورو ته وررسیږی د هغه دوچنده تاسی ته دررسیږی او مزید پر هغه یوه خاصه روزی او عزت به هم درعطاء کیږی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «له دغی لویی درجی سره لازمه ده چه د نیکی ثواب دوچنده او د بدی عذاب هم دوچنده وی» پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ئی فرمایلی دی ﴿ اِذًا لَّاَذَقْنٰكَ ضِعْفَ الْحَيٰوةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ ﴾ جزء ۱۵ (اسراء (۸) رکوع) ۷۵ آیت

يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَاَحَدٍ مِّنَ النِّسَآءِ

ای ښځو د نبی نه یئ تاسی لکه یو تولګی (په شان د بل تولګی د محمدی امت) له ښځو

**تفسیر:** یعنی ستاسی حیثیت او مرتبه د عامو ښځو په شان نه ده ځکه چی تاسی د الله تعالیٰ له جانبه د سیدالمرسلین صلی الله علیه وسلم د زوجیت دپاره انتخاب او غوره شوی یئ او تاسی ئی امهات المؤمنین ګرځولی یئ نو که د تقویٰ او طهارت ډیره ښه نمونه شئ لکه چه له تاسی څخه هم دغه صفات او ستاینه متوقعه ده نو د هغه وزن به د الله جل جلاله په دربار کښی ډیر زیات وی او که بالفرض کوم بد حرکت له تاسی څخه څرګند (ښکاره) شی نو په هم هغه تناسب سره د هغه سزا به هم زیاته درنه وی او ډیر زیات قبیح ګڼلی کیږی. الغرض که د فضائلو خوا وی یا د رذائلو خوا په دواړو کښی ستاسی وضعیت (طور طریقه) له نورو عامو مؤمناتو څخه جلا (جدا) او ممتاز دی.

اِنِ اتَّقَيْتُنَّ فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِيْ فِيْ قَلْبِهٖ

مَّرَضٌ وَّقُلْنَ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ﴿٣٢﴾

نو كه چيرى پرهيزگارى كوله تاسى پس مه كوئ نرمى په ويلو كښى پس (كه پسته خبره تاسى وكړه) نو په طمع كښى به پريوځى هغه څوك چه په زړه كښى ئى رنځ وى (د نفاق يا د فجور) او ووايئ تاسى خبره ښه (څيره).

**تفسير:** يعنى كه تقوىٰ او د الله جل جلاله ويره پخپلو زړونو كښى لرئ! نو له پرديو سريو سره چى خبرى اترى كوئ چى د هغه ضرورت خصوصاً امهات‌المؤمنين ته على الاكثر پيښيږى په پستى او زړه وړونكى لهجى سره ئى مه كوئ! بلاشبهه د ښځو په خبرو كښى قدرت په طبيعى ډول (طريقه) سره يو طبيعى پوستوالى ـ نزاكت او لطافت ايښى دى ليكن د پاكو مطهراتو ـ متقياتو ښځو شان او صفت ښائى داسى وى چه حتى المقدور د اجانبو سريو سره د ضرورى خبرو كولو په وخت كښى لږ شانى په تكليف سره داسى خبرى او اترى او لهجه اختيار كړى چه په كښى لږ څه خشونت او ضبط النفس څرگند (ښكاره) شى او د كوم يوه بد باطن قلبى ميلان خپل طرف ته جذب او كش نه كړى امهات‌المؤمنين ته د دوى د لوړ (اوچت) مقام په لحاظ په هسى مواردو كښى لا احتياط لازم دى څو كوم روحانى مريض او د زړه رنځور خپل عاقبت تباه او برباد ونه گرځوى. حضرت شاه صاحب ليكى «دغه ئى يو ادب وروښود چى كه له كوم نارينه سره خبرى كوى نو ښائى چه داسى ئى وكړى لكه چه ميندى له خپلو ځامنو سره خبرى كوى او كومه خبره چى كوى ښائى هغه هم معروفه او معقوله وى».

وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ

او قرار ونيسئ (اى ښځو!) په كورونو خپلو كښى او مه ښكاروئ (ښايست خپل بيگانه سريو ته) په شان د اظهار (او ښائست) د جاهليت (د ښځو) ړومبنيو.

**تفسير:** يعنى پخوا له اسلامه د جاهليت په زمانه كښى به ښځى بى پردى گرځيدى او د خپل بدن او د لباس ډول ښائست او د سينگار مظاهره او ښودنه به ئى په علانيه صورت سره كوله د دغى بداخلاقى او بيحيائى وضعيت د مقدس اسلام په نزد منفور او مهجور وگرځاوه شو او ښځو ته ئى صاف او پاك حكم صادر كړ چى دوى دى پخپلو كورونو كښى هستوگنه وكړى! او د جاهليت د رمانى په شانى دى د باندى نه وځى او نه دى د خپل حسن جمال ـ ډول او سينگار نمايش او ښودنه كوى! د امهات‌المؤمنين فرض به په دغه معامله كښى د نورو په نسبت لا زيات مؤكد وى لكه چه د ﴿ لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِّنَ النِّسَاءِ ﴾ په تفسير كښى وليكله شوه ـ باقى د كوم

شرعي يا ضروري يا طبيعي احتياج او ضرورت په بناء بې زينت او زيب په مبتذلو ـ او غير قابل الاعتناء لباسونو کښې د ستر او پردې د مراعاتو سره د دوی احياناً د باندې وتل مشروط په دې چه د ماحول په اعتبار د فتنې او فساد مظنه نه وي بلاشبهه د دې اجازت له نصوصو څخه مستفاد دی بالخاصه د مطهراتو ازواجو په حق کښې د هغه ممانعت نه دی ثابت ـ بلکه د متعددو واقعاتو څخه د دغې خبرې ثبوت هم په لاس راځي ليکن د شارع له ارشاداتو څخنې بالبداهه دغه ظاهرېږي چه شريعت هغه نه خوښوي او په هر تقدير هم داسې حکم صادر دی چه خامخا دې يوه مسلمانه ښځه په خپل کور کښې کېنې او د خپل کور زينت او سينګار دې جوړ او برابر کړي او د خپل د باندې وتلو څخه دې شيطان ته د کتلو او سترګو غورځولو موقع ور نه کړي د دې مسئلې تفصيل زمونږ د «شرعي حجاب» په رساله کښې شته پاتې شوه د ستر مسئله يعنې ښځې خپل کوم اعضاء د نارينه ؤ په مخ کښې ښکارولې شي؟ او خپل کوم اعضاء دې پټ کړي او کشف ئې ناجائز دی؟ د دې تفصيل د «النور» په سورت کښې ليکلی شوی دی.

**تنبيه:** کوم احکام چه په دغو آيتونو کښې مذکور دي د ګردو (تولو) ښځو دپاره دي د مطهراتو ازواجو په حق کښې کله چه د دې تأکيد او اهتمام زيات ضرورت ؤ نو ځکه په الفاظو سره دوی په خصوصيت سره مخاطبې ګرځولې شوي دي زما په نزد له ﴿ يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ مَنْ يَّاْتِ مِنْكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ﴾ څخه تر ﴿ لَسْتُنَّ كَاَحَدٍ مِّنَ النِّسَآءِ ﴾ پورې د دغو احکامو تمهيد وو په تمهيد کښې د دوو شقوقو ذکر ؤ د بېحيائۍ د خبرې ارتکاب او د هغه انسداد هغه په ﴿ فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ ﴾ څخه تر ﴿ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْاُوْلٰى ﴾ پورې وکړی شو بل د الله تعالىٰ او د رسول الله اطاعت او صالح عمل د هغه سلسله د ﴿ وَاَقِمْنَ الصَّلٰوةَ ﴾ څخه تر ﴿ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴾ پورې دوام لري خلاصه ئې داسې شوه چه د بدۍ له مواقعو څخه د ځان ساتنه او د نيکۍ په طرف سبقت ګردو (تولو) ته ضروري دی مګر مطهراتو ازواجو ته له ګردو (تولو) ښځو څخه زيات هغه ضروري او حتمي ده د دوی د نيکۍ او د بدۍ وزن دوچنده درولی شوی دی له دغه تقرير سره موافق د ﴿ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ﴾ تفسير هم بې تکلفه پوهيدلی کېږي.

---

## وَاَقِمْنَ الصَّلٰوةَ وَاٰتِيْنَ الزَّكٰوةَ وَاَطِعْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

---

او سم دروئ لمونځ (چه د بدني عباداتو اصل دی) او ورکوئ زکوٰة (چه د مالي عباداتو اصل دی) او (تل) اطاعت کوئ د الله او د رسول د دغه (الله).

---

**تفسير:** يعنې له نورو څخه زيات تاسې د دغو شيانو اهتمام وکړئ! ځکه چه تاسې له نبي سره اقرب او د امت دپاره نمونه يئ!

﴿إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا ۝٣٣﴾

بیشکه هم دا خبره ده چه اراده لری الله د دی چه لری کړی له تاسی ګناه ای اهل البیت (کورنی د محمد رسول الله) او چه پاک کړی تاسی (له ګناه) په پاکوالی.

**تفسیر:** د الله تعالیٰ اراده هم دا ده چه د نبی صلی الله علیه وسلم پر کورنی باندی د دغو احکامو تعمیل په ښه شان سره وکړی او دوی ښه صاف او پاک وګرځوی او سم د دوی له رتبی سره دوی ته داسی قلبی صفائی او اخلاقی پاکی عطاء وفرمائی چه په هغی سره دوی له نورو څخه فائقی او ممتازی وی (چه د هغی په لوری ئی په ﴿وَيُطَهِّرَكُمْ﴾ کښی د ﴿تَطْهِيرًا﴾ په تزئید سره اشاره فرمایلی ده) دغه تطهیر او د رجس اذهاب هم هغسی نه دی لکه چه د وضوء په آیت کښی ﴿وَلَٰكِن يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ﴾ د المائدة (۲) رکوع ٦ آیت یا د «بدر» په قصه کښی به ﴿لِيُطَهِّرَكُم بِهِ وَيُذْهِبَ عَنكُمْ رِجْزَ الشَّيْطَانِ﴾ د الانفال (۲) رکوع ۱۱ آیت دا تری مراد شوی دی بلکه دلته له تطهیر څخه د تهذیب النفس ـ تصفیةالقلب او تزکیةالباطن هغه اعلیٰ مرتبه مراد ده چه اکملو اولیاؤ الله ته حاصله وی او د هغی له حصول څخه وروسته اګر که دوی د انبیاء الله په شان معصوم نه ګرځی هو! محفوظ ویلی کیږی لکه چه د ﴿يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ﴾ الآیة ـ فرمایل او د (اراد الله) نه فرمایل پخپله د دغی خبری دلیل دی چه د اهل البیت دپاره عصمت نه دی ثابت.
**تنبیه:** په نظم‌القرآن کښی تدبر کونکیو ته د یوی لمحی دپاره هم په دغه خبره کښی هیڅ شک او شبهه نشی واقع کیدی چه دلته د اهل البیت په مدلول کښی یقیناً مطهرات ازواج داخل دی ځکه چه د دغه آیت څخه ړومبی او وروستی په تولو رکوع کښی ډیر خطابات له هم هغو سره شوی دی. او د «بیوت» نسبت هم پخوا په ﴿وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ﴾ او وروسته په ﴿وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلَىٰ فِي بُيُوتِكُنَّ﴾ کښی د هم دوی په طرف کړی شوی دی. علاوه پر دی په قرآن کښی عموماً دغه لفظ په هم دغه سیاق مستعمل شوی دی. د حضرت ابراهیم علیه السلام ښځی بی‌بی ساری رضی الله تعالیٰ عنها ته د خطاب کولو په وخت پرښتی ویلی ؤ ﴿أَتَعْجَبِينَ مِنْ أَمْرِ اللَّهِ رَحْمَتُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ﴾ د هود (۷) رکوع ۷۳ آیت د بیت نسبت مطلقی ښځی په طرف سره له دی نه چه د نکاح له قیده وتلی هم ده مګر د عدت د مدت د تیرولو دپاره هم لا د خپل خاوند کره ناسته ده په دغه آیت کښی کړی شوی دی ﴿لَا تُخْرِجُوهُنَّ مِن بُيُوتِهِنَّ﴾ (الطلاق اول رکوع ۱ آیت ۲۸ جزء) د حضرت یوسف علیه السلام په قصه کښی هم د بیت نسبت د بی‌بی زلیخا رضی الله تعالیٰ عنها په طرف کړی شوی دی. ﴿وَرَاوَدَتْهُ الَّتِي هُوَ فِي بَيْتِهَا﴾ (یوسف (۳) رکوع) ۲۳ آیت په هر حال په «اهل البیت» کښی دلته د ازواجو دخول یقینی دی بلکه د آیت خطاب ړومبی له هغو سره دی لیکن کله چه اولاد او زوم هم پخپل ځای په اهل‌البیت (کورووالؤ) کښی شامل دی لکه له

ځینو حیثیتونو دوی د دی لفظ لا زیات استحقاق لری لکه چه د احمد د مسند په یوه روایت کښی د «حق» له لفظ څخه ظاهریږی ځکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له جانبه حضرات فاطمه ـ علی ـ حسن او حسین رضی الله تعالیٰ عنهم ته په یوه څادر کښی ځای ورکول او د دوی په نسبت «اللّٰهم هٰؤلآء اهل بیتی» او نور فرمایل او د حضرت بیبی فاطمی رضی الله تعالیٰ عنها د کور له قریبه د تیریدلو په وخت کښی د **الصلوٰة اهل البیت** ﴿ یُرِیۡدُ اللّٰهُ لِیُذۡهِبَ عَنۡکُمُ الرِّجۡسَ ﴾ الآیة ـ خطاب کول د دغه حقیقت د ظاهرولو دپاره ؤ اگر که د دی آیت نزول ظاهراً د ازواجو په حق کښی دی او له هم هغو سره تخاطب کیږی مگر دغه حضرات هم په طریق الاولیٰ سره په کښی شامل او د دغه لقب مستحق او د تطهیر د فضیلت اهل دی. باقی کله چه مطهرات ازواج د قرآنی خطاب ړومبنی مخاطبان دی نو ځکه د دوی په نسبت دی اظهار او تصریح ته ضرورت نه دی پاتی. والله اعلم بالصواب.

---

وَاذۡکُرۡنَ مَا یُتۡلٰی فِیۡ بُیُوۡتِکُنَّ مِنۡ اٰیٰتِ اللّٰهِ وَالۡحِکۡمَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ کَانَ لَطِیۡفًا خَبِیۡرًا ﴿۳۴﴾ ع

---

او یادوئ تاسی هغه چه لوستی کیږی په کورونو ستاسی کښی له آیتونو د الله (چه قرآن دی) او له حکمته (حدیث رسول) بیشکه چه الله دی ښه عالم الاسرار ښه خبردار

---

**تفسیر:** یعنی په قرآن او سنت کښی کومی خبری چه د الله تعالیٰ پر احکامو او د پوهی پر مطالبو شاملی دی هغه زده او یادی کرئ! او نورو ته ئی هم ورښیئ! او د الله تعالیٰ د عظیم احسان شکر اداء کرئ! چه تاسو ته ئی په داسی متبرکو کورونو کښی ځای درکری دی چه د حکمتونو خزانه او د هدایاتو سرچینه ده.

د الله تعالیٰ په آیتونو کښی ډیر دقیق اسرار او د قدرت د علاماتو زیات رموزات دی هغه الله جل جلاله پر دی ښه پوهیږی چه کوم یو سری د دی امانت د پورته کولو اهل دی؟ هم هغه په خپل لطف او مهربانی سره محمد صلی الله علیه وسلم په وحی او تاسی ئی د ده په زوجیت سره غوره کری یئ ځکه چه الله تعالیٰ د هر چا د احوالو او استعدادو څخه علیم او خبیر دی او هیڅ یو کار بی له حکمته او تدبیره او تناسبه او تعلقه او ارتباطه نه کوی.

---

اِنَّ الۡمُسۡلِمِیۡنَ وَالۡمُسۡلِمٰتِ وَالۡمُؤۡمِنِیۡنَ وَالۡمُؤۡمِنٰتِ

وَالْقٰنِتِيْنَ وَالْقٰنِتٰتِ وَالصّٰدِقِيْنَ وَالصّٰدِقٰتِ وَالصّٰبِرِيْنَ وَالصّٰبِرٰتِ

بېشکه چه مسلمانان سړي او مسلمانانې ښځې او مؤمنان سړي او مؤمنانې ښځې او اطاعت کوونکي سړي او اطاعت کوونکې ښځې او رښتين سړي او رښتينې ښځې او صبر کوونکي سړي او صبر کوونکې ښځې.

**تفسير:** يعنې تکاليف پر ځان اخيستونکي سختي او ربړونه (تکليفونه) پر ځان ګالونکي (برداشت کونکي)، د شريعت پر احکامو قائم او ټينګ پاتې کېدونکي.

وَالْخٰشِعِيْنَ وَالْخٰشِعٰتِ

او وېرېدونکي عاجزي کوونکي سړي او وېرېدونکې عاجزي کوونکې ښځې.

**تفسير:** يعنې د تواضع او د عاجزۍ او د انکسار غوره کوونکي يا په خشوع سره د لمانځه اداء کوونکي.

وَالْمُتَصَدِّقِيْنَ وَالْمُتَصَدِّقٰتِ وَالصّٰٓئِمِيْنَ وَالصّٰٓئِمٰتِ وَالْحٰفِظِيْنَ فُرُوْجَهُمْ وَالْحٰفِظٰتِ وَالذّٰكِرِيْنَ اللّٰهَ كَثِيْرًا وَّالذّٰكِرٰتِ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۳۵﴾

او خيرات کوونکي سړي او خيرات کوونکې ښځې او روژه نيوونکي سړي او روژه نيوونکې ښځې او حفاظت کوونکي سړي ځاى د شهوت خپل (له ښځو) او ساتونکې ښځې (ځاى د شهوت خپل له سړيو) او ذکر کوونکي سړي الله لره (په ذکر) ډېر او ذکر کوونکې ښځې (الله لره په ذکر ډېر) تيار کړى دى الله دغو (لسو واړو جامع الطاعاتو سړيو او ښځو ته) مغفرت او اجر ډېر لوى (جنت).

**تفسير:** ځينو مطهراتو ازواجو وېلي وه چه په قرآن شريف کښې ډېر ځايونه د نارينه ؤ ذکر شته مګر د ښځو ذکر هيچېرې نشته او ځينو نورو صالحانو ښځو ته داسې خيال پيدا شو چه په سابقه ؤ آيتونو کښې د ازواج النبي تذکار وشو خو د نورو ښځو په نسبت هيڅ کومه تذکره ونشوه ـ نو په دغه تناسب دغه آيت نازل شو څو تولې سره متسلې شي چه که نارينه وى يا ښځه

د هیڅا محنت او زحمت د الله تعالیٰ په نزد نه ضایع کیږی، هم هغسی چه نارینه ۆ ته د روحانی او اخلاقی ترقی د حاصلولو ذرایع او وسایل شته ښځو ته هم دغه میدان خلاص دی دغه ئی د اناثیه ۆ طبقی د اطمینان او تسلی دپاره وفرمایل که نه هر هغه احکام چه په قرآن کښی د نارینه ۆ دپاره فرمایلی شوی دی هم هغه عموماً پر ښځو هم عائدیږی او د بیل نوم اخیستلو دپاره هیڅ ضرورت نه دی پاتی. هو! په دوی پوری نور خصوصی احکام بیل بیان کړی شوی دی.

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُّبِينًا ﴿۳۶﴾

او نه دی (روا) هیڅ مؤمن سړی او نه هیڅ مؤمنی ښځی ته کله چه حکم وکړی الله او رسول د دغه (الله) په یو امر کار کښی دا چه وی دوی ته اختیار له امره کاره خپله (په خلاف د امر د الله او د رسول) هیڅ او هر څوک چه اطاعت نه کوی د الله او د رسول د دغه (الله) پس په تحقیق ګمراه شو په ګمراهی ښکاره سره.

**تفسیر:** حضرت بی بی زینب رضی الله تعالیٰ عنها بنت امیمة بنت عبدالمطلب د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ترور لور چه د قریشو له ډیری لوئی کورنی شخه وه رسول الله صلی الله علیه وسلم وغوښت چه د هغی نکاح حضرت زید رضی الله تعالیٰ عنه بن حارثه سره وتړی دغه زید هم اصلاً د عربو له شرفاؤ شخه ۆ ـ خو کوم ظالم په وړوکوالی دی تښتولی او د مریی په عنوان ئی د معظمی مکی په بازار کښی پلورلی (خرڅ کړی) ۆ بیا دغه زید رضی الله تعالیٰ عنه د حضرت بی بی خدیجة الکبریٰ رضی الله تعالیٰ عنها له طرفه په بیع سره واخیست شو چه څو موده وروسته بی بی صاحبی دغه خپل مریی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وباښه کله چه زید رضی الله تعالیٰ عنه لوی او هښیار شو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ملګرتوب د شام په یوه تجارتی سفر کښی تلو څه وخت چه زید رضی الله تعالیٰ عنه د خپل کور او کلی له څنګه تیریده دلته ئی د خپلو اقاربو او خپلوانو پوښتنه او پلتنه (تحقیق) وکره ـ څو د زید رضی الله تعالیٰ عنه پلار ـ تره او ورور د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښی حاضر شول او داسی غوښتنه ئی تری وکړه چی «د زید معاوضه له موږ څخه واخلئ! او پر موږ ئی وسپارئ!» رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه د معاوضی هیڅ ضرورت نشته که زید پخپلی رضا او خوښی له تاسی سره ځی سل کرته دی لاړ شی! زما له خوا ورته هیڅ ممانعت نشته کله چه هغوی له زید څخه دغه پوښتنه

وکړه زيد وويل «چه زه له محمد صلی الله علیه وسلم څخه بل هیچیری نه ځم ځکه چه دوی له ما سره ډير ښه سلوک کوی او له مور او پلار څخه می ښه ساتی.» په دغه تقریب رسول الله صلی الله علیه وسلم دی آزاد کړ او خپل زوی ئی وباله ـ لکه چه خلقو د هغی زمانی د رواج سره سم ده ته زيد بن محمد ويل. تر هغه پوری چه دغه آیت نازل شو ﴿ ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِندَ اللَّهِ ﴾ دلته به د زيد بن محمد صلی الله علیه وسلم په ځای خلقو زيد بن حارثه باله کله چه سم د قرآن له حکمه سره د ده له نامه څخه د دغه عظیم نسبت شرف بیل کړی شوی ؤ ښائی د دغه د تلافی دپاره د تولو اصحابو له مجمع څخه يواځی هم ده ته دغه شرف ورويخښلی شو چه نوم ئی تصريحاً په قرآن کریم کښی وارد شو لکه چه وروسته راځی ﴿ فَلَمَّا قَضَىٰ زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا ﴾ په هر حال کله چه د حضرت زينب رضی الله تعالیٰ عنها د کورنی حيثيت ډير لوړ (اوچت) ؤ او زيد رضی الله تعالیٰ عنه بن حارثه ظاهراً د مريتوب په داغ داغلی شوی ؤ نو ځکه نه پخپله بی‌بی زينبه رضی الله تعالیٰ عنها او نه د دی ورور په دغه خوښ او رضاء ؤ چی د دی نکاح له زيد سره وتړله شی ليکن د الله تعالیٰ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم منظور داسی ؤ چه داسی موهوم تفريقات او امتيازات د دی د نکاح په لاره کښی نه ښائی چه حائل شی نو ځکه رسول الله مبارک پر بی‌بی زينب رضی الله تعالیٰ عنها او د دی پر ورور زور غورځاوه څو هغوی پر دغه نکاح راضی شول ـ په دغه وخت کښی دا آیت نازل شو او دغه خلقو خپله خوښی او مرضی د الله جل جلاله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر خوښی او مرضی جار او قربان کړله او د بی‌بی زينبی رضی الله تعالیٰ عنها نکاح له حضرت زيد رضی الله تعالیٰ عنه بن حارثه سره وتړله شوه.

---

وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِي أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ أَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَاتَّقِ اللَّهَ وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللَّهُ مُبْدِيهِ وَتَخْشَى النَّاسَ وَاللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخْشَاهُ فَلَمَّا قَضَىٰ زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنَاكَهَا لِكَيْ لَا يَكُونَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ فِي أَزْوَاجِ أَدْعِيَائِهِمْ إِذَا قَضَوْا مِنْهُنَّ وَطَرًا وَكَانَ أَمْرُ اللَّهِ مَفْعُولًا ﴿٣٧﴾

---

او (ياد کړه ای محمده!) کله چه وويل تا هغه (زيد) ته چی انعام کړی ؤ الله پر هغه (په اسلام سره) او انعام کړی ؤ تا پر هغه (په آزادولو سره) چی

وساته ته په ځان ښځه د تا (زینب بنت جحش) او وویریږه له الله (په طلاق) حال دا چې پټوله (ای محمده!) تا په زړه خپل کښې هغه خبره چې الله ښکاره کوونکې ۇ د هغې (چې زوجة النبی کیدل د زینب دی) او ویریدی ته له خلقو او الله ډیر لایق دی د دی چه وویریږی ته له ده نه کله چې تمام کړ زید له دغې (زینب) څخه خپل غرض (او طلاقه ئی کړه او عدت ئی تیر شو) نو په نکاح درکړه مونږ تاته دغه (زینب) دپاره د دی چې نه وی پر مؤمنانو سختی (او وبال) په (نکاح کولو د) ښځو د ادعیاؤ د دوی کله چې تمام کړی (دغه ادعیاء) له دوی نه غرض (خپل چې طلاقی ئی کړی او عدت ئی تیر شی) او دی امر حکم د الله کیدونکی هرومرو (خامخا).

**تفسیر:** یعنی حضرت زید رضی الله تعالیٰ عنه حضرت بی‌بی زینب رضی الله تعالیٰ عنها ته طلاق ورکړ او د دی عدت هم تیر شو او اوس زید رضی الله تعالیٰ عنه له بی‌بی زینبی رضی الله تعالیٰ عنها سره هیڅ غرض او تعلق نه لری. کله چې بی‌بی زینب رضی الله تعالیٰ عنها د زید رضی الله تعالیٰ عنه په نکاح کښې ورغله نو زید بن حارثه رضی الله تعالیٰ عنه د دغې میرمنی په نظر کښې خوار او حقیر ښکاریده، د دی طبیعت او مزاج به له هغه سره نه لګیده او پخپلو منځو کښې ئی له هم دی سببه موافقت نه کاوه همیشه د دغو دواړو په منځ کښې به جنګ او جګړه نښتی وه. نو زید رضی الله تعالیٰ عنه به د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حضور کښې حاضریده او خپل دغه شکایت به ئی وروړاندی کاوه او هم داسی به ئی ویل چې زه دغه خپله ښځه خوشی کوم ځکه چې زما ګذران ورسره نه کیږی او شپی می ورسره نه تیریږی ـ خو رسول الله صلی الله علیه وسلم به تل دی منع کاوه او د صبر او استقامت توصیې به ئی ورته کولی او ورته به ئی ویل چه هغې زما له خاطره او د الله او د رسول په حکم د خپلی منشاء او خوښی په خلاف له تاسره خپله نکاح وتړله نو که ته ئی اوس خوشی کړی نو دغه طلاق به هم هغې او هم د هغې نورو عزیزانو او خپلوانو ته د بل ذلت او سپکوالی په منزله وی نو ځکه له الله څخه وویریږه! او په وړوکو وړوکو خبرو دغسې خبری ته اقدام مه کوه او څو دی له وسه کیږی ګذران کوه! او شپی او ورځی دی ورسره په ښه شان تیروه! کله چه په هیڅ ډول (طریقه) د دوی دواړو په منځ کښې موافقت رانغی او تل به د دوی په منځ کښې جنګ او جګړی نښتی وی ـ او په شپه او ورځ کښې به د دوی د مناقشی مرافعی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته رسیدی نو ممکن دی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زړه کښې به دغې خبری خطور کړی وی که زید لاعلاجه شی او مجبوراً خپله ښځه خوشی کړی نو د بی‌بی زینبی تسلی او اطمینان بی له دی نه په بل شی نه کیږی څو چه زه خپله نکاح ورسره ونه تړم لیکن د جاهلانو او منافقانو له بد ویلو څخه په اندیښنه کښې ۇ چه دوی به داسی وائی چه «محمد د خپل زوی ښځه په نکاح واخیسته» حال دا چه دغه خبره دوی ته لا له پخوا څخه معلومه وه ـ چه د الله جل جلاله په نزد متبنی په هیڅ یوه خبره کښې د

زوی حکم نه لری.
له بل جانبه د الله تعالیٰ اراده په دی سره تللی وه چه دغه د جهالت خیال او مفکوره هم د خپل رسول په وسیله په عملی طور سره لری او ورکه کړی څو مسلمانانو ته په مستقبل کښی له داسی مسائلو څخنی هیڅ قسم تکلیف او زحمت وړپیښ نشی ـ او د هیڅ توحش او استنکاف مورد وړیاتی نه وی. نو الله تعالیٰ خپل رسول ته اطلاع ورکړه چه «زه بی‌بی زینب ستا په نکاح کښی درکوونکی یم» ولی ئی درکوم؟ دغه پخپله د پاک قرآن دغه الفاظ ﴿ لِكَيْ لَا يَكُونَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ فِي أَزْوَاجِ أَدْعِيَائِهِمْ ﴾ په صاف او ښکاره ډول (طریقه) سره ظاهروی یعنی
غرض له دغی نکاح څخه دا دی چه د نورو له زړه څخه دغه د جاهلیت خیال بیخی محو او معدوم شی او د دغی باطلی مفکوری بیخی قلع او قمع وکړه شی او وروسته له دی نه بل هیڅ قسم تنګسه او ممانعت په دغه معامله کښی پاتی نشی. او ښائی چه د هم دغه حکمت په اساس به ړومبی د بی‌بی زینبی رضی الله تعالیٰ عنها نکاح حکماً زید رضی الله تعالیٰ عنه سره تړلی شوی وی ځکه چه دغه خبره پاک الله ته معلومه وه چه دغه نکاح به تر ډیر مدت پوری نه پاتی کیږی.
څو مهمه مصالح ۋ چه د هغوی حصول پر دغه عقد پوری معلق و. الحاصل نبی الکریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم د خپل دغه شخصی خیال او د دغه آسمانی پخوا ویلو له اظهاره د عوامو د طعن او د تشنیع لامله (له وجی) شرمیده او له دی نه به ئی هم حیا کوله چه زید ته د طلاق مشوره ورکړی لیکن د الله تعالیٰ خبره هرومرو (خامخا) رښتیا کیدونکی ده او حتمی او ضروری ۋ چه د الله تعالیٰ دغه تکوینی او تشریعی حکم نافذ او تعمیل شی بالاخره زید رضی الله تعالیٰ عنه بی‌بی زینبی رضی الله تعالیٰ عنها ته طلاق ورکړ ـ او عدت ئی تیر شو وروسته الله تعالیٰ د بی‌بی زینبی رضی الله تعالیٰ عنها نکاح زمونږ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وتړله. له دغه تقریر څخه معلوم شو کوم شی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زړه کښی پټ ۋ هغه هم دا د نکاح پخوا ویل او د هغه خیال ۋ چه د هم دغه اظهار پخپله الله تعالیٰ وفرمایه لکه چه د ﴿ زَوَّجْنَاكَهَا ﴾ له لفظ څخه ظاهر دی او ویره له دغی خبری څخه وه چه نه چه ځینی خلق به پر دغه خبره بدګمانی یا بد ویل وکړی او خپله آخره خاتمه او عاقبت به خراب او ویجاړ وګرځوی یا به په خپله ګمراهی کښی لا ترقی وکړی څرنګه چه د مهمه ۋ شرعیه ۋ مصالحو په مقابل کښی دغسی تذبذب او تردد هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم له رفیع شان څخه نازل ۋ نو د **«حسنات الابرار سیئات المقربین»** له قاعدی سره سم هغه په عتاب لرونکی لهجی سره دروند او ثقیل ښکاره کړی شوی دی لکه چه عموماً د انبیاؤ علیهم السلام د زلاتو په ذکر کښی شویدی.
**تنبیه:** دغه مو چه ولیکل الله تعالیٰ د بی‌بی زینبی رضی الله تعالیٰ عنها د نکاح خبر له رسول الله سره پخوا له دی نه ورکړی ۋ ـ دغه روایات په فتح الباری د «الاحزاب» د سورت په تفسیر کښی موجود دی پاتی شوی هغه چتی (بیکاره) او بی موردی قصی او خبری چه حاطب‌اللیل مفسرین او مؤرخین او بالخاصه اروپایی مستشرقینو په دغه مقام کښی لیکلی دی او زمونږ ځینی متجدد زلمیان هم هغه د خپلی پوهی د نمونی پشان بیانوی د هغو په نسبت حافظ ابن حجر رحمة الله

عليه داسی ليکی «**لاينبغی التشاغل بها**» او ابن کثير رحمة الله عليه ليکی

**«احببنا　ان نضرب عنها صفحاً لعدم صحتها فلانوردها»**

مَا كَانَ عَلَى النَّبِيِّ مِنْ حَرَجٍ فِيمَا فَرَضَ اللَّهُ لَهُ سُنَّةَ اللَّهِ فِي الَّذِينَ خَلَوْا مِن قَبْلُ وَكَانَ أَمْرُ اللَّهِ قَدَرًا مَّقْدُورًا ﴿٣٨﴾ الَّذِينَ يُبَلِّغُونَ رِسَالَاتِ اللَّهِ وَيَخْشَوْنَهُ وَلَا يَخْشَوْنَ أَحَدًا إِلَّا اللَّهَ وَكَفَى بِاللَّهِ حَسِيبًا ﴿٣٩﴾

نشته پر نبی هيڅ قدر سختی (او وبال) په هغه کار (د نکاح د زينبی) کښی چه مقرره کړی وه الله ده ته طريقه مقرره کړی ده الله په هغو (انبياؤ) چه تير شوی دی ړومبی له دی نه، او دی امر حکم د الله يو حکم مقرر کړی شوی (په قطع او جزم سره) هغه (انبياء) چه رسوی پيغامونه د الله (امتيانو خپلو ته) او ويرېږی له دغه (الله) او نه ويريږی د بل هيچا مگر يواځی له الله او کافی (بس) دی الله ښه حساب کوونکی (د بندګانو).

**تفسير:** يعنی د الله تعالىٰ حکم قاطع او نافذ دی کومه خبره چه د ده له جانبه طی او صادر شوی وی هغه هرومرو (خامخا) کيدونکی ده. بيا نبی صلی الله عليه وسلم ته په داسی کولو کښی هيڅ مضايقه نشته چه په شريعت کښی روا دروليی شوی ده. انبياء او رسولان د الله تعالىٰ په پيغام رسولو کښی له ماسواء الله د بل هيچا څخه نه دی ويريدلی لکه چه تا هم خپل د دغه پيغام په رسولو کښی تر نن ورځی پوری د هيڅ شی پروا نه ده کړی ـ او نه د چا د ويلو او اورولو له تصوره لږ څه متأثر شوی ئی نو بيا د دی نکاح په معامله کښی به ولی څه ممانعت واقع شئ حضرت داؤد عليه السلام يو سل ښځی درلودی (لرلی) ـ هم داسی حضرت سليمان عليه السلام هم د ازدواج په کثرت کښی مشهور دی. سفهاء او ناپوهان هغه الزام چه پر تاسی اړوی د سابقينو انبياؤ په سوانح کښی له دی نه زيات د هغه اشباه او نظائر شته ـ لهٰذا تاسی ته نه ښائی چه دغو سفاهتی او جهالتی تنقيداتو ته وګورئ! وروسته دغه راښيی چه حضرت زيد بن حارثه رضی الله تعالىٰ عنه چه هغه تاسی د خپل زوی په ځای بللی ؤ ستاسی واقعی زوی خو نه دی ګرځيدلی چه د هغه د مطلقی ښځی سره به تاسی نکاح نشی ترلی ـ او يو زيد رضی الله تعالىٰ عنه څه بلکه تاسی له نورو نارينه ؤ ځنی هم د هيڅ يو سړی پلار نه ئی ځکه چه ستاسی له اولادی ځنی خو يا هغه هلکان ؤ چه په وړوکوالی کښی مړه شول ـ او ځينی د دغه آيت د نزول په وخت کښی

بیخي نه ؤ پیدا شوی یا خو جوني وی چه د هغوی له منځه د سیدتنا حضرت فاطمة الزهرا رضی الله تعالیٰ عنها اولاده په دنیا کښې منتشره او خوره شوه.

مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ

نه دی محمد صلی الله علیه وسلم (حقیقی) پلار د هیڅ یو تن له سړیو ستاسی ولیکن رسول د الله دی (خلقو ته په شان د معنوی پلار)

**تفسیر:** یعنی هیڅوک د ده زوی مه ګڼئ! هو! محمد صلی الله علیه وسلم د پاک الله رسول دی نو په دغه حساب سره ګرد (تول) د ده روحانی زامن دی لکه چه د ﴿ اَلنَّبِيُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ ﴾ په تفسیر کښې ولیکل شو.

وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ۝۴۰

او مهر د (تولو) انبیاؤ دی (چه پس له دی نه بل نبی نه دی). او دی الله پر هر څیز ښه عالم

**تفسیر:** د حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په تشریف راوړلو سره د انبیاؤ پر سلسله د اختتام مهر ولګید ـ اوس به هیچا ته نبوت نه ورکاوه کیږی ـ پس هر چاته چې نبوت رسیدلی دی نو له هم دی جهته د دوی د نبوت دوره له ګردو (تولو) انبیاؤ څخه وروسته ایښی شوی ده چې د قیامت تر قیام پوری به اوږدوالی لری حضرت مسیح علیه السلام به هم په آخره کښې د محمد صلی الله علیه وسلم د یوه امتی په شان او حیثیت راځی او د عیسوی د نبوت او رسالت عمل به په هغه وخت کښې جاری نه وی لکه چې نن ورځ هم د ګردو (تولو) انبیاؤ ادیان پخپلو ځایونو کښې موجود شته مګر په شپږو جهاتو کښې یواځی د محمدی نبوت جاری او ساری دی په حدیث کښې راغلی دی که نن موسیٰ علیه السلام د ځمکی پر سر ژوندی وی نو هغه ته به هم ماسواء زما له متابعته بله چاره نه وه بلکه د ځینو محققینو په نزد پخوانی انبیاء به هم پخپلو زمانو کښې د خاتم الانبیاء صلی الله علیه وسلم له عظمی روحانیته مستفید کیدل لکه چې په شپه کښې سپوږمی او ستوری د لمر له رنا (رڼا) څخه مستفید کیږی حال دا چې په دغه وخت کښې لمر له سره په سترګو نه راځی هم هغسی چه د رنا (رڼا) ګرد (تول) مراتب په عالم الاسباب کښې پر لمر تمامیږی هم داسی د نبوت او رسالت ګرد (تول) مراتب او د کمالاتو تولی سلسلی هم په محمدی روح ختمیږی. په دغه لحاظ سره ویلی شو چې محمد صلی الله علیه وسلم د رتبی او زمانی او له هر حیثیته خاتم النبیین دی او هر چا ته چه نبوت وررسیدلی دی، د دوی د مهر

لګولو څخه وروسته وررسيدلی دی. والله اعلم بالصواب.

**تنبيه:** د نبوت د ختم په متعلق له قرآنه ـ حديث ـ د امت اجماع څخه په سلهاؤ دلايل ځينو معاصرو عالمانو راټول کړی دی او ترى مستقل کتابونه ئې ليکلی دی چه د هغو له کتلو څخه لږ څه تردد او اشتباه نه پاتې کيږی چه د دغی عقيدی منکر قطعاً کافر او له اسلامی ملت څخه خارج دی او دی الله پر هر شيز ښه عالم يعنی هم دغه الله تعالیٰ پر دغه باندی هم عليم او خبير دی چه د رسالت يا د نبوت ختم په کوم ځای کښی کيښود شی.

يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوا اللّٰهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا ﴿۴۱﴾ وَّسَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ﴿۴۲﴾

ای هغو کسانو چه ايمان ئې راوړی دی (يعنی ای مؤمنانو) يادوئ الله په يادولو ډيرو سره او تسبيح وايئ (لمونځ کوئ) ده ته په صبا او په بيګا کښی.

**تفسير:** يعنی الله تعالیٰ دومره لوی احسان فرمايلی دی چه داسی عظيم‌الشان رسول او د انبياؤ سردار محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم ئې ستاسی د هدايت دپاره ليږلی دی نو پر دغه د ده شکر اداء کړئ! او له سره حقيقی منعم مه هيروئ! په ناستی او ولاړی ـ په تللو او راتللو ـ په شپه او ورځ ـ په صبا او بيګا په ګردو (تولو) اوقاتو او حالاتو او محلاتو کښی د الله تعالیٰ په ذکر او فکر کښی لګيا اوسئ!

هُوَ الَّذِيْ يُصَلِّيْ عَلَيْكُمْ وَمَلٰٓئِكَتُهٗ لِيُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ۗ وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَحِيْمًا ﴿۴۳﴾

دی هغه (الله) دی چی رحمت (نازلوی) پر تاسي او پرښتی د دغه (الله هم مغفرت درته غواړی) دپاره د دی چی وباسی (الله) تاسی له تيارو (د کفره) رڼا (رڼړا) ته (د اسلام) او دی (الله) پر مؤمنانو ډير رحم والا.

**تفسير:** يعنی د الله تعالیٰ د زيات ذکر او په کثرت سره د يادولو نتيجه داسی کيږی چه الله تعالیٰ هغه خپل رحمت پر تاسی نازلوی چه د پرښتو په وسيله ئې ليږی ـ هم دغه رحمت او برکت دی چه ستاسی لاس ئې نيولی دی او د جهالت او ضلالت له تيارو څخه ئې ايستلی ئې او د علم ـ پوهی او تقویٰ د رڼا (رڼړا) په طرف ئې لاره درښوولی او بيولی ئې يئ که د الله تعالیٰ خاصه مهربانی پر ايمان لرونکيو نه وی نو د ايمان دولت به دوی ته له کومه ځايه ورعطاء کيده؟ او

ځرنګه به هغه له دوی سره محفوظ پاتی کیده؟ د الله تعالیٰ په لطف او مهربانی مؤمنین د رشد او هدایت ـ او ایمان او احسان په طریقو کښی ترقی کوی دغه خو د دوی دنیوی حال دی د دوی د اخروی اعزازو او اکرامو ذکر وروسته راځی.

تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ يَلْقَوْنَهُ سَلَامٌ ۚ وَأَعَدَّ لَهُمْ أَجْرًا كَرِيمًا ﴿٤٤﴾

(د الله) پیشکش دوی ته په هغی ورځی چه ملاقات وکړی دوی له دغه (الله) سره سلام دی او تیار کړی دی (الله) دوی ته اجر ډیر لوی (جنت).

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ به پر دوی سلام لیږی او پرښتی به هم پری سلام اچوی او بیا ورننږدی کیږی مؤمنین به هم پخپلو منځونو کښی د سلامونو هم داسی مبادله او تعارف کوی لکه چه په دنیا کښی ئی سره کوی.

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ﴿٤٥﴾

ای نبی بیشکه مونږ لیږلی مو ئی ته شاهد (په هغه چا چه ورلیږلی شوی ئی) او زیری ورکوونکی (په نعیم سره مؤمنانو ته) او ویروونکی (له جحیم څخه کافرانو ته).

**تفسیر:** یعنی حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم تاسی ته د الله تعالیٰ توحید درزده کوی او تاسو ګردو (تولو) ته سمه صافه لاره درښیی هر هغه شی چه وائی په زړه او په عمل سره پری شاهدی ورکوی او په محشر کښی به هم د امت په نسبت شاهدی لولی چه د الله تعالیٰ پیغام کوم یوه سړی تر کومی اندازی پوری منلی دی؟ (او زیری ورکوونکی دی مؤمنانو ته په نعیم سره او ویروونکی دی منکرانو ته له جحیم څخه) یعنی غاړه ایښودونکی او فرمان منونکی ته په ثواب سره زیری ورکوی غاړه غړوونکی او نافرمانان په عذاب سره ویروی.

وَدَاعِيًا إِلَى اللَّهِ بِإِذْنِهِ وَسِرَاجًا مُّنِيرًا ﴿٤٦﴾

او بلونکی (د خلقو عبادت د) الله ته په اذن حکم د دی (الله) او ډیوه روښانه کوونکی.

**تفسير:** پخوا ئې فرمايلي ؤ چې د الله تعالىٰ رحمت مؤمنين له تيارو څخه وباسي او رڼا (رڼرا) ته ئې راولي دلته دغه راښيي چه هغه رڼا (رڼرا) د دغې ډيوې څخه منتشره شوې ده. ښائې د ډيوې لفظ په دغه ځای کښې په هغې معنی سره وي چې د «نوح» په سورت کښې داسې فرمايلي شوی دی ﴿ وَجَعَلَ الْقَمَرَ فِيهِنَّ نُورًا وَجَعَلَ الشَّمْسَ سِرَاجًا ﴾ - الله تعالىٰ سپوږمۍ رڼا (رڼرا) او لمر ئې ډيوه ګرځولې ده» يعنی تاسې د نبوت او د هدايت هغه لمر ئې چه ستاسې د طلوع څخه وروسته بلې کومې رڼا (رڼرا) ته هيڅ ضرورت نه دی پاتې او نورې ګردې (ټولې) رڼاګانې (رڼراګانې) په دغه اعظم نور کښې محو او مدغم شوې دي.

وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ بِأَنَّ لَهُمْ مِنَ اللَّهِ فَضْلًا كَبِيرًا ﴿٤٧﴾

او زيرې وکړه په مؤمنانو په دې چه بيشکه شته دوی ته له (طرفه د) الله فضل ډير لوی (جنت).

**تفسير:** يعنی الله تعالىٰ په دنيا او عقبیٰ کښې دغه محمدی امت ته د حضرت محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم په طفيل پر نورو ټولو اممو لوېوالی او لوړوالی (اوچت والی) ورعطا فرمايلی دی.

وَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ وَالْمُنَافِقِينَ وَدَعْ أَذَاهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ وَكِيلًا ﴿٤٨﴾

او مه منه (حکم) د کافرانو او منافقانو (چې مخالف له شريعته وي) او پرېږده ضرر د دوی (په انتقام اخيستلو کښې) او توکل وکړه پر الله، او کافي (بس) دی الله وکيل (کار جوړوونکی).

**تفسير:** يعنی کله چه الله تعالىٰ تاسې ته داسې کمالات او داسې غوره او منتخبه جماعت عنايت فرمايلی دی نو تاسې حسب المعمول د دعوت او اصلاح او تبليغ فرائض په پوره قوت او مستعدی سره اداء کوئ! او پر هغه حکم چې الله تعالىٰ تاسې ته درکړی د هغه په ويلو او کولو کښې د هيڅ يوه کافر او منافق او د نورو د چټی (بيکاره) ويلو خيال او پروا مه کوئ! **(ودع أذاهم** - الآية - او پرېږده ضرر د دوی په انتقام اخيستلو کښې او توکل وکړه پر الله او کافي (بس) دی الله وکيل) يعنی که دغه اشقياء تاسې په ژبه او عمل وځوروی نو تاسې د دوی هيڅ پروا مه کوئ!. او د هغوی خبرو ته بيخی غوږ مه ږدئ! او پر پاک الله توکل او اعتماد وکړئ! هغه به

پخپل قدرت او رحمت سره ګرد (تول) کارونه جوړوي د مجرمينو لار ښوونه يا د دوی په سزا رسونه دغه تول د هم ده د قدرت په لاس کښې دي تاسې ته هيڅ ضرورت نه دی پاتې چه په دغه فکر او انديښنه کښې خپل ځان وکړوځ! د دوی مطلب خو هم داسې دی څو تاسې د دوی له طعنو او تشنيعو او نورو تعديباتو څخه وويرېږی! او د خپل دغه دعوت او تبليغ له فريضې څخه مخ واړوی! که په فرض المحال سره تاسې هم داسې وکړئ نو ګواکې د دوی مطلب مو پوره کړ او د هغوی خبرو ته مو غوږ کېښود. (العياذبالله).

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نَكَحۡتُمُ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ ثُمَّ طَلَّقۡتُمُوهُنَّ مِن قَبۡلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ فَمَا لَكُمۡ عَلَيۡهِنَّ مِنۡ عِدَّةٖ تَعۡتَدُّونَهَاۖ فَمَتِّعُوهُنَّ وَسَرِّحُوهُنَّ سَرَاحٗا جَمِيلٗا ﴿٤٩﴾

ای هغو کسانو چې ايمان ئې راوړی دی (يعني ای مؤمنانو) کله چې په نکاح واخلی مؤمنې ښځې بيا طلاقې کړې تاسو دوی پخوا له دې نه چې مس (صحيحه خلوت) وکړی له دوی سره پس نشته تاسې ته پر دغو مطلقاتو هيڅ شمير (د ورځو) چه شميرې به تاسو هغه، نو ورکړئ دوی ته څه فائده او خوشې کړئ دوی په خوشې کولو ښو سره.

**تفسير:** يعني هغه سړی چه خپلې ښځې ته پخوا له جماع يا صحيح خلوت څخه طلاق ورکړی که د دې دپاره ئې مهر تاکلی (مقرر کړی) وی نو نيمائی مهر ئې پرې اوړی که نه لږ څه فايده وروړسوی يعنې سم له عرف او خپل حيثيت سره يوه جوړه جامه دې ورکړی او په ښه صورت سره دې خوشې او مرخصه کړی ـ او که ښځه په دغه صورت وغواړی چه له بل چا سره خپله نکاح وتړی نو عدت پرې نشته زمونږ د حنفيانو په نزد صحيحه خلوت هم د جماع حکم لري د دغې خبرې تفصيلات دی په فقهيه ؤ کتابونو کښې ولوستل شي دغه مسئله ئې دلته د رسول الله صلی الله عليه وسلم د مطهراتو ازواجو په ذکر کښې بيان وفرمايله چه د هغه سلسله له لرې ځای څخه دوام لري په منځ کښې څو آيتونه د ضمني مناسباتو له سببه راغلل ـ له دې ځايه بيا د سابق مضمون په طرف عود وکړی شو په رواياتو کښې راغلی دی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم له يوې ښځې سره نکاح وتړله ـ کله چه هغې ته ورنژدې کيده نو دغې ښځې وويل چه زه له تا څخه الله تعالیٰ ته پناه نيسم» رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل چه «تا لوی پنا ځای ځان ته غوره کړی نو په دغه نسبت دا آيت نازل شو او خطاب ئې ايمان لرونکو ته وفرمايه څو معلوم شي چه دغه حکم په رسول الله صلی الله عليه وسلم پورې څه خصوصيت نه لري بلکه پر ګردو

(تولو) مسلمانانو هم دغه حکم شته سم له دغه سره رسول الله مبارک هغې ښځې ته جوړه ورکړه او مرخصه ئې کړه مگر دغې ښځې په تول عمر کښې پر خپل دغه محروميت ژړل.

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِنَّآ اَحْلَلْنَا لَكَ اَزْوَاجَكَ الّٰتِيْٓ اٰتَيْتَ اُجُوْرَهُنَّ وَمَا مَلَكَتْ يَمِيْنُكَ مِمَّآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلَيْكَ وَبَنٰتِ عَمِّكَ وَبَنٰتِ عَمّٰتِكَ وَبَنٰتِ خَالِكَ وَبَنٰتِ خٰلٰتِكَ الّٰتِيْ هَاجَرْنَ مَعَكَ ۫ وَامْرَاَةً مُّؤْمِنَةً اِنْ وَّهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ اِنْ اَرَادَ النَّبِيُّ اَنْ يَّسْتَنْكِحَهَا ۗ خَالِصَةً لَّكَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ؕ قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِيْٓ اَزْوَاجِهِمْ وَمَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ لِكَيْلَا يَكُوْنَ عَلَيْكَ حَرَجٌ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۵۰﴾

اې نبي بيشکه مونږ حلالې کړې مو دې تاته ښځې ستا هغه ښځې چې ورکړې دې تا دوی ته مهرونه د دوی او هغه ښځې چه مالک شوی دی (د هغو) ښي لاس ستا له هغو (وينځو) چې راگرځولې دي الله په تا (له کفارو) او لونې د عم (تره) ستا او لونې د عمې (ترور) ستا او لونې د ماما (نيايي) ستا او لونې د خاله (توړې) ستا هغه ښځې چې هجرت ئې کړی دی له تا سره او هغه ښځه مومنه چې وبښي نفس خپل نبي ته (بې له مهره) که اراده وکړي نبي د دې چې په نکاح واخلي (بې مهره) دغه (ښځه) خالصه (جايزه ده) تاته غير له نورو مومنانو په تحقيق معلوم دی مونږ ته هغه (حکم) چه مقرر کړی دی مونږ پر دوی باندې په حق د ښځو د دوی او د هغو وينځو چې مالکان دي (د هغو) ښي لاسونه د دوی دپاره د دې چې نه وی پر تا باندې هيڅ حرج سختي، او دی الله ښه ښښونکی (د خطياتو) ډير رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره).

**تفسير:** يعنې له هغو وينځو چې په غنيمت او نورو کښې ستاسې په لاس درشي او ستا هغه ښځې چه د دوی مهر دې ورکړی دی يعنې چه اوس ستاسې په نکاح کښې دي که قريشي وی يا له مهاجراتو څخه وی يا نه وی تولې تاسې ته حلالې دي له دوی څنې هيڅ يوه د دې وړ او قابله نه

ده چې خوښې کړی شي. د تره ـ د ترور ـ د ماما ـ او د توری لوڼی یعنی له قریشیانو ځنی چې د مور یا د پلار له جانبه د تا قربت داری وی د هجرت په شرط حلالی دی او تاسی له هغوی سره نکاح کولی شی او هره ښځه چه خپل ځان نبی ته وبښی یعنی بی له مهره وغواړی چه په نکاح کښی ئی راشی هغه هم حلاله ده ـ که تاسی داسی په نکاح راوړل خوښوی! دغه اجازت مخصوص رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دی اگر که دوی پر دغه اجازت نه دی عمل کړی **(کما فی الفتح)** ښائی له ﴿ إِنْ أَرَادَ النَّبِيُّ ﴾ شخه مرجوحه اباحت گڼلی شوی وی. په هر حال نورو مسلمانانو ته هغه حکم دی چی معلوم شوی دی ﴿ أَن تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُم ﴾ الآیة ـ (النساء (٤) رکوع) یعنی بی له مهره نکاح نه کیږی که د عقد په وخت کښی د هغه ذکر شوی وی او که وروسته له هغه تاکلی (مقرر) شوی وی یا هیڅ نه وی تاکلی (مقرر) شوی نو په دغه صورت مهرالمثل یعنی هغه مهر چه د دی په اقاربو او خپلوانو کښی معمول او مروج وی واجبیږی له رسول الله صلی الله علیه وسلم ځنی الله تعالیٰ دغه مهر قید لری کړی دی. په خلاف د مؤمنینو چه هغوی ته نه د دی خبری اجازه ده چه له څلورو ښځو شخه زیاتی ښځی واخلی او نه دا چه کومه ښځه بی له مهره په نکاح راولی.

**تنبیه:** رسول الله صلی الله علیه وسلم تر پنځه ویشتو کلونو پوری چه دوی د ځلمیتوب جوش او خروش او د خوند او نشاط وخت وو محض په تجرد ئی ژوندون کاوه ـ بیا د دوی د اقرباؤ او خپلوانو په اصرار او د حضرت بی‌بی خدیجة الکبریٰ رضی الله تعالیٰ عنها په غوښتنی چه د ځوانی وخت ئی تیر شوی وو او دوه ځلی کونده شوی وه له هغی سره ئی عقد وفرمایه ـ تر دری پنځوس کلونو پوری د دوی ژوندون په پوره سکون او اطمینان له دغی متقیی او عفیفی ښځی سره تیر شو دا هم دغه زمانه وه چی دوی به له گردو (تولو) مخلوقاتو شخه جلا (جدا) په سمڅو او کندو کښی د واحد الله تعالیٰ په عبادت ـ ریاضت کښی مشغول او لگیا ؤ او د الله جل جلاله دغی بختوری بندی بی‌بی خدیجة رضی الله تعالیٰ عنها به دوی ته د ژوندون تول ضروریات تهیه او تیارول او د الله تعالیٰ په عبادت او د دوی د قلبی سکون په حصول کښی به ئی له دوی سره پوره مرسته (مدد) او اعانت کاوه. د ژوندانه په دغی اوږدی زمانی کښی چه د نورو خلقو لپاره د نفسانی جذباتو د انتهائی شدت او حدت زمانه وی د دوی حیات په ډیر سکون او اطمینان سره تیر شو تر دی چه خورا ډیر معاند او له حده زیات کوم یو متعصب دښمن هم یو حرف، یوه نقطه هم د دوی د رسولانه عصمت او خارق العادت اتقاء او عفت پر خلاف نشی نقلولی او واضح دی وی چه دا د هغه اکمل البشر د سیرت ذکر دی چه دوی پخپله د خپل حق په نسبت داسی فرمایلی دی «هغه جسمانی قوت چه ماته عطاء کړی شوی دی د اهل الجنت د څلویښتو نارینه ؤ اندازه دی» چه د یوه جنتی قوت د سلو تنو سړیو په اندازه جسمانی قوت ورعطاء کړی وه او بیشکه چه د دنیا د اکمل البشر تمام روحانی او جسمانی قوتونه ښائی چه په هم داسی اعلیٰ او اکمله اندازه وی. په دغه حساب که فرضاً څلور زره بیبیانی د دوی په نکاح کښی راغلی وی نو د دوی د قوت په اعتبار به هم دغه درجه کښی شمیر کیدی شوی لکه چه یو نارینه له یوی ښځی

سره نكاح وكړى. ليكن الله اكبر! د دغه شديد رياضت او ضبط النفس په نسبت څه وويلى شى چه دوى د خپل عمر تر درى پنځوسم كال پورى په هم هغه تجرد يا زهد په حالت كښى ژوندون وكړ بيا د بى‌بى خديجى رضى الله تعالىٰ عنها د وفات څخه وروسته د خپل ځان جاروونكى وفادار ملګرى له لور حضرت بى‌بى عايشى صديقى رضى الله تعالىٰ عنها سره ئى خپل عقد وتاړه - ماسواء له عايشى صديقى اته كوندى بيبيانى هم د دوى په نكاح كښى ورغلى دى چه د دوى له وفات څخه وروسته نهه واړه موجودى وى چه د دوى اسماء دا دى (۱) حضرت بى‌بى عايشه صديقه رضى الله تعالىٰ عنها (۲) حضرت بى‌بى حفصه رضى الله تعالىٰ عنها (۳) حضرت بى‌بى سوده رضى الله تعالىٰ عنها (٤) حضرت بى‌بى ام سلمه رضى الله تعالىٰ عنها (٥) حضرت بى‌بى زينب رضى الله تعالىٰ عنها (٦) حضرت بى‌بى ام حبيبه رضى الله تعالىٰ عنها (۷) حضرت جويريه رضى الله تعالىٰ عنها (۸) حضرت بى‌بى صفيه رضى الله تعالىٰ عنها (۹) حضرت بى‌بى ميمونه رضى الله تعالىٰ عنهن وارضاهن دغه وروستنى درى بيبيانى قريشيانى نه دى د دنيا له ګردو (تولو) ځنى بيمثاله انسان چه د خپل فطرى قوتونو په لحاظ اقلاً د څلورو زرو ښځو مستحق وى كه دى له څلورو زرو ښځو څخه يوائې تر نهو ښځو اكتفاء وكړى نو آيا كوم يو انصاف پسنده سړى پر دوى د ازواجو د كثرت الزام لګولى شى؟ بيا كله چه مونږ ګورو چې له يوه جانبه د دوى عمر له درى پنځوسم كاله متجاوز شوى وى او سره له عظيم الشانو فتوحاتو يوه ورځ هم په مړه ګيډه ئى ډوډى نه وى خوړلى - هر شى چه ئى په لاس ورتله د الله تعالىٰ په لاره كښى به ئى صرفول په اختيارى فقر او فاقه كښى به ئى پر خپله ګيډه تيږى (ګټى) تړلى. په څو څو مياشتو كښى به ئى د مطهراتو ازواجو له كورو لوګى نه پورته كيده او اور به په كښى نه بليده. على الاكثر د دوى ژوندون به په اوبو او په كهجورو ؤ پرله پسى به ئى روژى نيولى څو متوالى ورځى به ئى په روژه سره تيرولى او له سره به ئى افطار نه فرمايه - د شپى له مخى به هم د الله تعالىٰ په عبادت كښى ولاړ وو تر دى چه د دوى پښى به پړسيدى - او د تولو خلقو زړه به پرى سوځيده - د عيش او طرب سامان لا څيرى بلكه دوى خپلو تولو بيبيانو ته داسى فرمايلى ؤ «زما هره هغه ښځه چې د اخرت ژوندون خوښوى له ما سره دى پاتى شى او هره هغه چه دنيوى ژوندون خوښوى مرخصه دى شى!» سره له دغو حالاتو كه بيا هم په غور او دقت سره وكتل شى د تولو مطهراتو ازواجو حقوق به ئى په داسى اكملى او احسنى طريقى سره ادا فرمايل چه د هغه له تحمل او عهدى څخه به ډير زورور او خورا (ډير) طاقتور سړى هم نشى وتلى. او د جنګ په ډګر كښى به د ډيرو لښكرو په مقابل كښى څه وخت چې ډير شجاع او جنګيالى سړى به هم له ډګره د باندى ووت دوى به لكه يو لوى غر په ډير شجاعت او حماست سره د اعداؤ الله په مخ كښى تينګ ولاړ وو او په لوړ (اوچت) غږ سره به ئى داسى فرمايل «**الى عبادالله! انا رسول الله!**» او «**انا النبى لا كذب انا ابن عبدالمطلب**» د بيبيانو په تعلقاتو او د عبوديت په واجباتو او د رسالت په فرائضو كښى د يوى ذرى په اندازه هم له دوى ځنى څه فرق او توپير نه ليده كيده او نه به كوم سخت او ډير ربړوونكى (تكليفونكى) كار كښى د يوى شيبى له مخى هم له دوى

ځنی ضعف او تعجب احساس کیده ـ دغه خارق العادت احوال د اهل البصیرت په نزد له معجزی شخه کم نه دی هم هغسی چه د دوی هلکتوب او ځلمیتوب یوه معجزه وه د دوی زوړتوب هم یوه معجزه ده. رښتیا خبره خو هم دا ده چه الله تعالیٰ د دوی د پاک ژوندون په هره یوه دوره کښی د عفیفو او متقی اشخاصو دپاره څه نمونی ایښی دی چی د انسانی ژوندون په هره شعبه کښی دوی ته عملاً هم لار ښوونه وکړی شی د مطهراتو ازواجو په دغه اسمی زیادت باندی د مخالفانو کوم تنقید او اعتراض دی هم هغه دغه مرحومه امت ته د دغی خبری وسیله گرځیدلی ده چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نارینه او ښځی اتباع کوونکی د هغو حکمو او نمونو څخه بی تکلفه واقف شی چه مخصوصاً په باطنی احوالو او کورنی ژوندون سره تعلق لری. گواکی د ازواجو په کثرت کښی یو لوی مصلحت هم دغه دی چه د کورنی معاشرت او نسوانی مسائلو په متعلق د رسول الله صلی الله علیه وسلم احکام او د دوی د حسنه اسوه اشاعت په کافی حد سره بی تکلفه وکړی شی او هم د مختلفو قبائلو او طبقاتو د ښځو اوسیدل د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښی هغو قبائلو او طبقاتو ته د دوی د زوموالی او دامادی شرف حاصل شو او په دغه صورت سره د دوی وحشت او نفرت هم لږ شو او د خپلو دغو قومی ښځو په وسیله کله چه هغوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم له تقویٰ ـ عفت ـ شفقت ـ رأفت ښه اخلاق ـ ښو معاملو ـ ښی سجیی او نورو صفاتو څخه خبریدل نو د هغو لامله (له وجی) د دوی شوق او رغبت د اسلامیت په طرف زیادت مونده ـ او بالوسیله د شیطانی شکوکو او اوهامو ازاله په ښه طریقه سره کیده ـ او په دغه صورت سره د الله تعالیٰ د عشاقو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځان جاروونکیو او د دنیا د هادیانو هغه عظیم الشان جمعیت تیار شو چی له هغوی ځنی زیات پرهیزگار او عفیف او شریف بل کوم جماعت (ماسوا له انبیاؤ الله څخه) تر آسمان لاندی له سره نه مونده کیږی او د هغو تهیه او تیاریدل د کومی بدی سجیی او بد ژوندون سری په تربیت کښی مشکل او محال ؤ.

---

تُرۡجِیۡ مَنۡ تَشَآءُ مِنۡهُنَّ وَتُـــٔۡوِیۡۤ اِلَیۡكَ مَنۡ تَشَآءُ ؕ وَمَنِ ابۡتَغَیۡتَ مِمَّنۡ عَزَلۡتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَیۡكَ ؕ ذٰلِكَ اَدۡنٰۤی اَنۡ تَقَرَّ اَعۡیُنُهُنَّ وَلَا یَحۡزَنَّ وَیَرۡضَیۡنَ بِمَاۤ اٰتَیۡتَهُنَّ كُلُّهُنَّ ؕ وَاللّٰهُ یَعۡلَمُ مَا فِیۡ قُلُوۡبِكُمۡ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِیۡمًا حَلِیۡمًا ﴿۵۱﴾

---

بیرته کوی هر هغه ښځه چه غواړی ته له دغو ښځو خپلو او رانزدی کوی ځان ته هره هغه ښځه (خپله) چی غواړی ته (له دغو ښځو خپلو) او هغه چی بیا

ئې وغواړې له هغو (ښځو خپلو) چې لرې کړې دې پس نشته هیڅ ګناه پر تا باندې دغه (تفویض د کلي واک (اختیار) د ښځو خپلو) تاته ډیر نژدې دی چې یخې او روښانه شي سترګې د دوی (او خوشالي شي) او نه به غمجنې کیږې او راضي (خوشالیږي) دوی په هغه شي چې ورکوې ته دوی ته تولې د دوی، او الله ته معلوم دی هر هغه څه چې په زړونو ستاسې کښې دي (له رغبت او کراهیت د ښځو) او دی الله ښه عالم ډیر تحمل والا.

**تفسير:** یعنې د «**واهبة النفس**» په متعلق اختیار لرې چه قبلوې ئې او که ئې نه قبلوې ـ او د موجوده ؤ ښځو څخه دې مختار ئې چې کومه ئې ساتې او کومې یوې ته ئې طلاق ورکوې او هم د هغو ښځو په نسبت چه پاتې شي پر تاسې قسم ( وار ـ نوبت) نه دی واجب چه خامخا یوه یوه شپه له هرې یوې سره به اوسیږې د هرې یوې په نسبت چې زړه مو غواړي وراندې وروسته هم کولی شې او له هرې یوې څخه مو چې ځان بیل کړې وي بیا د هغې د بیرته اخیستلو اختیار هم لرې ـ سره له دې چه دغه حقوق او اختیارات دوی ته ورکړې شوي ؤ مګر دوی په خپل تول عمر کښې له دغو اختیاراتو څخه کار وانخیست. په معاملاتو کښې ئې دومره زیات له عدل او مساوات څخه کار اخیست او د هغه مراعات به ئې کاوه چه ډیر لوی او محتاط سړی به هم هغسې نشي کولی ـ خو سره له دې نه که د دوی قلبي میلان د چا په لوري بې اختیاره کیده ـ نو داسې به ئې فرمایل «**اللّٰهم هذا قسمي فيما املک فلا تلمني فيما تملک ولااملک**» ای الله! دغه زما تقسیم دی په هغو شیانو کښې چې ځما په واک (قبضه) او اختیار کښې دي او پر هغه څیز کښې چې یواځې ستا په اختیار دی او ځما په اختیار کښې نه دی مه مې ملامتوه» ښائې په ﴿ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا فِيْ قُلُوْبِكُمْ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَلِيْمًا ﴾ کښې د هم دغه په لوري اشاره وي حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکي چه «که کوم سړی څو ښځې لرې نو پر ده واجب دي چې په وار او نوبت سره دې له ګردو (تولو) سره واوسیږي مګر پر رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه وار او نوبت نه ؤ واجب او د دې لامله (له وجې) چې ښځې هغه خپل حق ونه ګڼي او هر څه چه دوی ته وررسیږي پر هم هغه دې خوښې او راضي اوسي او قبول دې کړي که نه هره ورځ به شور ما شور ـ جنګ ـ جنجال جاري او په دیني مهماتو کښې به خلل واقع کیده او د ازواجو نظر به هم له دنیا لرې کیده او بیخي د هم هغه اخروي اصلي مقصد په طرف به متوجه کیده ـ او په دغو غمونو او اندیښنو کښې به سره نه اخته کیده مګر رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل طرف په دغه قسم نوبت او وار کښې هیڅ فرق او توپیر (فرق) نه فرمایه ـ او د هرې یوې په وار کښې به له هم هغې سره د شپې اوسیدل. یواځې حضرت بي‌بي سوده رضی الله تعالیٰ عنها کله چه د دې عمر زیات شو خپل نوبت ئې حضرت بي‌بي عائشې صدیقې ته وروباښه».

لَا يَحِلُّ لَكَ النِّسَآءُ مِنْۢ بَعْدُ وَلَآ اَنْ تَبَدَّلَ بِهِنَّ

مِنْ اَزْوَاجٍ وَّلَوْ اَعْجَبَكَ حُسْنُهُنَّ

نه دی حلالی تاته ښځی پس له دغو (نهو ښځو چه اوس دی په نکاح دی) او نه دغه (درته روا دی) چه بدل کړی په دوی له نورو ښځو اګر که تعجب درولی تاته ښائست د هغو نورو هم.

**تفسیر:** یعنی هومره اقسام ئی چه په ﴿ اِنَّآ اَحْلَلْنَا لَكَ اَزْوَاجَكَ الّٰتِیٓ ﴾ کښی فرمایلی دی له هغو څخه زیاتی نه دی حلالی. او څه چی موجودی دی د هغو بدلول نه دی حلال یعنی دغه چی له دوی څنی کومه یوه د دی لامله (له وجی) خوشی کړی چی د هغی په ځای بله کومه یوه راولی ۔ له حضرت بی بی عائشی صدیقی رضی الله تعالیٰ عنها او ام سلمی رضی الله تعالیٰ عنها څخه روایت دی چه دغه ممانعت په اخر کښی موقوف شو مګر واقعه دا ده چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وروسته له دی نه نه کومه بله نکاح وفرمایله او نه ئی په دغو موجوده ؤ ښځو خپلو کښی په کومی یوی کښی تبدیل وفرمایه د دوی د وفات تر وخته پوری دغه ګردی (تولی) ازواجی موجودی وی.

اِلَّا مَا مَلَكَتْ یَمِیْنُكَ ؕ

مګر «خو روا دی درته» هغه وینځی چی مالک وی ښی لاس د تا «دوی ته»

**تفسیر:** یعنی وینځه ۔ کنیزک ۔ د رسول الله مبارک دوه ښځی مشهوری دی یوه «مارية القبطية چه د دی له نسه حضرت ابراهیم متولد او په هلکتوب کښی وفات شو ۔ دوهمه ریحانه رضی الله تعالیٰ عنهما

وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ رَّقِیْبًا ﴿۵۲﴾

او دی الله په هر خیز باندی (د اعمالو ستاسی) ښه ساتونکی.

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ درته ګوری چه په کوم یوه د احکامو او حدودو پابندی کوی؟ او پر کوم یوه ئی نه کوی نو ښائی چه انسان د هر کار د کولو په وخت کښی هم دغه خبره تر نظر لاندی ونیسی.

یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا بُیُوْتَ النَّبِیِّ

إِلَّآ أَن يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَىٰ طَعَامٍ غَيْرَ نَٰظِرِينَ إِنَىٰهُ وَلَٰكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَٱدْخُلُوا۟

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو!) مه ننوځئ کورونو د نبی ته مګر (هغه وختی ننوځئ چی اذن وکړی شی تاسی ته (خوړلو د) طعام ته په دغه حال کښی چه نه اوسی منتظر پخلی د هغه ته ولیکن کله چه وبلل شئ تاسی پس ننوځئ.

**تفسیر:** یعنی بی له حکمه او اجازی په دعوت کښی مه ځئ! ځو تاسی ئی نه یئ غوښتی پخپل سر چیری مه درومئ که نه هلته به په انتظار کښی ناست پاتی کیږئ او د هغه کورنی د کارونو په اجرا کښی مانع ګرځئ او د حرج عوامل به پیدا کوئ!

فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَٱنتَشِرُوا۟ وَلَا مُسْتَـْٔنِسِينَ لِحَدِيثٍ ۚ

پس کله چی طعام وخورئ نو خواره شئ (نور ځنډ (تاخیر) مه کوئ هلته) او مه کینئ آرام نیوونکی دپاره د خبرو (یو له بل سره)

**تفسیر:** یعنی څه وخت چی له دوډی څخه فارغ شوئ نو ښائی د خپلو کورونو په طرف بیرته ولاړ شئ! ځکه چی د همله کیناستلو او مجلس جوړولو څخه هغی کوربه ته تکلیف او حرج واقع کیږی. دغه خبری اګر که د نبی الله صلی الله علیه وسلم د کورونو په متعلق فرمایلی شوی دی ځکه چه د شان نزول تعلق له هغه سره دی مګر تری د یوه عمومی ادب ښوونه مقصود ده چی بی له غوښتنی د چا کره تلل ـ یا د کوم میلمه سره مل شوی په طفیلی حیثیت د چا کره ننوتل ـ یا پخوا له ډوډی هم داسی خوشی چتی (بیکاره) هلته پندیدل ـ او خبری اتری کول ـ یا وروسته د ډوډی له فراغه هلته کیناستل او مجلس او ساعت تیری کول نه دی په کار.

إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ يُؤْذِى ٱلنَّبِىَّ فَيَسْتَحْىِۦ مِنكُمْ ۖ وَٱللَّهُ لَا يَسْتَحْىِۦ مِنَ ٱلْحَقِّ ۚ

بیشکه دغه (ننوتل کیناستل خبری کول) دی داسی کار چی تکلیف رسوی نبی ته پس حیأ کوی (نبی) له تاسی (چی وباسی تاسی) او الله حیأ نه کوی له (ویلو د خبری) حقی.

**تفسیر:** یعني نبي الله صلی الله علیه وسلم د شرم او حیأ له وجې پر خپل ځان ربړ (زحمت) او تکلیف اخلي ـ او د خاطر او لحاظ لامله (له وجې) په صافو الفاظو سره دغو میلمنو ته نه وائي چه ځئ! خپلو ځایونو ته لاړ شئ! چې ماته تکلیف او اذیت پېښېږي دا خو د نبي الله صلی الله علیه وسلم د اخلاقو او د مروتو وضعیت دی مګر ستاسی له تأدیب او اصلاح څخه هیڅ شی پاک الله نشي منع کولی او الله تعالیٰ هرومرو (خامخا) د خپل رسول صلی الله علیه وسلم په ژبه تاسی ته خپل احکام اعلام او درښکاره وي.

وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَسْـَٔلُوهُنَّ مِن وَرَآءِ حِجَابٍ ۚ ذَٰلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ ۚ

او کله چه غواړئ تاسی له دغو (مطهراتو ازواجو) څخه د کوم متاع کار کوم څیز پس غواړئ هغه له دوی نه د باندی د پردی دغه (غوښتل د باندی د پردی) د تاسی ډیر پاک ساتونکی دی د زړونو ستاسی او (ډیر پاک ساتونکی دی) د زړونو د دوی،

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «په دغه سره الله تعالیٰ مسلمانانو ته ادب ښوولی دی. کله چې دوی به د ډوډی دپاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم کره ورتلل نو وروسته له ډوډی ځنی به هملته کښیناستل او په خپلو خبرو اترو به مشغولیدل حال دا چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د هوسائی (آرام) او استراحت ځای به هم هغه ؤ. مګر دوی له شرمه او حیأ دوی ته نه ویل چې ځئ پاځئ! نو ځکه پاک الله دوی ته وفرمایل ـ او په دغه آیت کښې د پردی حکم صادر شو چې نارینه دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم له ازواجو سره مخامخ نشي. که کوم شی غواړی ښائی چې د پردی له شا ئی وغواړی. په دغه کښې د جانبینو زړه صاف او پاک پاتی کیږی او د شیطانی وساوسو استیصال په عمل راځی».

وَمَا كَانَ لَكُمْ أَن تُؤْذُوا۟ رَسُولَ ٱللَّهِ وَلَآ أَن تَنكِحُوٓا۟ أَزْوَٰجَهُۥ مِنۢ بَعْدِهِۦٓ أَبَدًا ۚ إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ عِندَ ٱللَّهِ عَظِيمًا ﴿٥٣﴾

او نه ده روا تاسی ته دا چې تکلیف (او ضرر) ورسوئ رسول د الله ته او نه ده (روا تاسی ته) دا چې په نکاح واخلئ ښځی د ده پس له وفات (یا

طلاق) د ده هيڅکله بيشکه دغه (ايذاء د رسول او د ازواجو نکاح ئی) ده په نزد د الله (ګناه) ډيره لويه

**تفسير:** يعنی د کفارو او منافقينو هر څه چی زړه ئی غواړی چتی (بيکاره) او فضول دی ووائی او پخپلو هم دغو ربړولو (تکليفولو) او ايذاء رسولو کښی دی مشغول اوسی! مؤمنينو ته چی د ډيرو دلايلو او براهينو په رڼا (رڼرا) د رسول الله صلی الله عليه وسلم انتهائی صداقت ـ امانت ـ عفت ـ طهارت ظاهر او څرګند (ښکاره) شوی دی ـ دغه خبره لائقه او مناسبه نه ده چه د رسول الله صلی الله عليه وسلم په حيات يا ممات کښی داسی کومه خبره وکړی يا ئی ووائی چی دوی دی د ډيری ضعيفی درجی ايذاء او خفګان سبب وګرځی په مونږ او تولو مؤمنانو لازم دی چه د خپل دغه محبوب او مقدس رسول د عظمت شان تل ترتله رعايت وکړو او هميشه فهم او دقت وکړو چه په غفلت او تساهل سره هم کوم داسی تکليف ورکوونکی حرکت له مونږ ځنی صادر نشی چه د هغه لامله (له وجی) د دنيا او آخرت په زيان او خساره اخته او ککړ شو له دغه تکليف ورکوونکو حرکاتو څخه يوه ډيره سخته او لويه ګناه دغه ده چه کوم سړی د دوی د مطهراتو او ازواجو سره وروسته د دوی له وفاته خپله نکاح وتړی. يا د داسی نالائقی ارادی اظهار د رسول الله په حيات کښی وکړی. ظاهر دی چه د مطهراتو ازواجو مخصوص عظمت د رسول الله صلی الله عليه وسلم د تعلق له سببه موجود او قائم شوی دی. او دوی له روحانی حيثيته د تولو مؤمنينو محترمی ميندی تاکلی (مقرر) شوی دی. آيا وروسته له دی نه چه د کوم امتی د نکاح په عقد کښی راشی د دوی هغه عزت او احترام کماحقه ملحوظ پاتی کيدی شی؟ وروسته له دوی نه کله چی دوی په کورنی جنجالو او جګړو کښی ولويږی نو د تعليم او تلقين او دينی احکامو د تبليغ هغه اعلیٰ غرض او مقصود څرنګه په اطمينان او آزادی سره تکميل او پوره کولی شی چه د هغه دپاره فی الحقيقت قدرت دوی د رسول الله صلی الله عليه وسلم د زوجيت دپاره غوره کړی دی ـ او آيا کوم په انتهائی درجه سره بی حياء او بيحسه او بی شعوره انسان به هم باور کولی شی چه له سيدالبشر امام المتقين او د خلق العظيم له مظهر سره کومی بی‌بی صاحبی چه خپل عمر تير کړی وی هغه به د يوی شپی له مخی هم بی د دوی له کوره په بل ځای کښی اوسيدی شی؟ او هلته قلبی سکون او مسرت هم حاصلولی شی؟ يا د هغه هيله (ارزو) او اميد به خپل زړه کښی ګرځولی شی؟ خصوصاً څه وخت چه دغه خبره معلومه شوی هم وی چی دوی له هغو منتخبؤ او غورو خواتينو څخه دی چه د دوی په مخ کښی د دنيا او آخرت دواړه لياری وروړاندی کړلی شوی مګر هغوی په خپل ذوق او خوښی سره د دنيا پر عيش، خوښی او عشرت د رسول الله صلی الله عليه وسلم صحبت او خدمت او د آخرت عظمت ته ترجيح او اهميت ورکړ. او د آخرت د لياری د اختيارولو اعلان ئی وکړ. لکه چه تاريخ راښيی چی د رسول الله صلی الله عليه وسلم له وفاته وروسته دغو مطهراتو ازواجو او جنتی مقدساتو خواتينو په څه عديم‌النظير زهد ـ ورع ـ تقویٰ ـ صبر او توکل سره د الله تعالیٰ په عبادت او خپلو معنوی اولادهؤ په هدايت

کښې مشاغلت او د اسلامي احکامو په نشر او اشاعت او په ديني خدمت کښې مواظبت کاوه او خپل ګرد (ټول) اوقات ئې په هم دغو مهماتو کښې صرف او وقف کړل او هيڅ يوی له دوی څخنې په سهو او خطأ سره هم دنيوی لذايذو او مشاغلو ته نه دی کتلی او څرنګه داسې کوم خيال به د دوی په زړه کښې تيريده؟ حال دا چې الله تعالیٰ د دوی په نسبت داسې لطف او مرحمت فرمايلی ؤ ﴿ يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا ﴾ او په دغه سره ئې د دوی د تزکيې او د تطهير د کفالت بشارت ورکړی وو. **(فرضي الله عنهن! وارضاهن وجعلنامن يعظمهن حق تعظيمهن، فوق مانعظم امهاتنا التي ولدتنا. آمين.)** د دغې مسئلې نهايت محققانه بحث د حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوی قدس سره د «آب حيات» په کتاب کښې شته.

---

## إِن تُبْدُوا شَيْئًا أَوْ تُخْفُوهُ فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ﴿٥٤﴾

---

که چيری ښکاره کړئ کوم شی (تاسې په خوله) يا ئې پټ وساتئ (په زړونو کښې) پس بيشکه الله دی پر هر څيز (د اعمالو ستاسې) ښه عالم.

---

**تفسير:** يعني مه په ژبه سره دغسې خبرې کوئ او مه په زړه کښې داسې وسوسې ته لياره ورکوئ! څکه د الله تعالیٰ په نزد ظاهر او باطن او نور ګرد (ټول) يو شان عيان دی او هيڅ يو شی له ده څخنې پټ نه دی او دی پر ګردو (ټولو) اخبارو او اسرارو عليم او خبردار دی.

---

## لَّا جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ فِي آبَائِهِنَّ وَلَا أَبْنَائِهِنَّ وَلَا إِخْوَانِهِنَّ وَلَا أَبْنَاءِ إِخْوَانِهِنَّ وَلَا أَبْنَاءِ أَخَوَاتِهِنَّ وَلَا نِسَائِهِنَّ وَلَا مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ ۗ

---

نشته ګناه پر دغو ښځو په (مخامخ کيدلو د) پلرونو د دوی کښې او نه په ځامنو د دوی کښې او نه په ورونو د دوی کښې او نه په ځامنو د ورونو د دوی کښې او نشته (ګناه پر دغو ښځو په مخامخ کيدلو د) ځامنو د خويندو د دوی کښې او نه په ښځو د دوی (يعني په ښځو د نورو مؤمنانو) او نه په هغو (وينځو) چه مالکان وی ښې لاسونه د دغو (ښځو لره).

---

**تفسير:** پاس د مطهراتو ازواجو سره د نارينه ؤ مخامخ کيدلو ممانعت وشو. اوس دغه ښوولی کيږی چې دوی سره د دوی د محارمو مخامخ کيدل ممنوع نه دی. په دغه مورد کښې کوم عمومي حکم چې د عمومو مستوراتو په نسبت د «النور» په سورت کښې تير شو هم هغسې د

مطهراتو ازواجو په نسبت هم حکم دی. د ﴿ وَلَا نِسَآئِهِنَّ وَلَا مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُنَّ ﴾ کومه تشریح چی مونږ هلته په (۱۰) رکوع کښې کړی ده هغه دی دلته بیا ولوسته شی.

وَاتَّقِيْنَ اللّٰهَ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدًا ﴿۵۵﴾

او وویریږئ (ای ښځو) له الله! بیشکه الله دی پر هر شی باندی ښه شاهد عالم.

**تفسیر:** یعنی د پردی کوم احکام چه بیان شوی دی او هغه استثناء چه په کښې کړی شوی چه هغه په پوره ډول (طریقه) سره ملحوظ ولرئ او لږ څه هم په هغه کښې وړاندی وروسته لاندی باندی ونه کړئ ! او په ظاهر او باطن کښې ښائی چه د الله تعالیٰ د احکامو او د حدودو رعایت وکړی! ځکه چه له الله تعالیٰ څخه ستاسی هیڅ شی نه دی پټ ﴿ يَعْلَمُ خَآئِنَةَ الْاَعْيُنِ وَمَا تُخْفِى الصُّدُوْرُ ﴾

اِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ ۚ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿۵۶﴾

بیشکه الله او پرښتی د الله درود وائی (رحمت لیږی) پر نبی باندی ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو) درود ووایئ پر هغه (نبی) باندی او سلام (پری) ووایئ په سلام ویلو سره.

**تفسیر:** د «صلوٰة علی النبی» مطلب دا دی د نبی ثناء له تعظیم ـ رحمت او عطوفت سره ـ بیا د هر یوه په طرف چه صلوٰة منسوب وی سم د هغه د شان او مرتبی سره کومه ثناء ـ تعظیم ـ رحمت او عطوفت چی وړ او لایق وی هم هغه به تری مرادوه شی. لکه چی وایی پلار پر زوی ـ زوی پر پلار او ورور پر ورور مهربان دی یا هر یو له بل سره مینه او محبت کوی نو ظاهر دی د پلار کوم قسم محبت او مهربانی چی پر زوی ده د زوی هغه قسم مینه او محبت پر خپل پلار نه دی او د ورور له ورور سره هم هغسی نشته بلکه د دغو دواړو د مینی نوعیت بل شان دی ـ هم داسی دلته ئی هم قیاس وکړئ او وپوهیږئ! الله تعالیٰ هم پر نبی صلوٰة لیږی یعنی په رحمت او شفقت سره د ده ثناء ـ اعزاز او اکرام کوی پرښتی هم پری سلام لیږی مگر د هر یوه صلوٰة رحمت ـ تکریم او تعظیم سم د ده د شان، مقام او مرتبی سره دی. وروسته له دی نه پر مؤمنانو حکم دی چی تاسی هم پر نبی صلی الله علیه وسلم صلوٰة او رحمت ولیږئ! ښائی د دوی حیثیت له دغو دواړو څخه بیخی جلا (جدا) او علیٰحده وی. علماؤ فرمایلی دی چی د الله

تعالیٰ صلوٰة رحمت لیږل دی او د پرښتو صلوٰة استغفار دی او د مؤمنینو صلوٰة دعاء ده. په حدیث کښې راغلی دی کله چې دغه آیت نازل شو صحابه ؓ رضی الله عنهم عرض وکړ یا رسول الله د سلام طریقه خو موږ ته معلومه شوی ده یعنی چې د لمانځه په تشهد کښې داسی لوستل کیږی السلام علیک ایها النبی و رحمة الله و برکاته د صلوٰة طریقه هم موږ ته ارشاد وفرمایئ! څو یې موږ په لمانځه کښې ولولو. رسول الله صلی الله علیه وسلم د دغه درود تلقین دوی ته وفرمایه «**اللّٰهم صل علیٰ محمد وعلیٰ آل محمد کماصلیت علیٰ ابراهیم وعلیٰ آل ابراهیم انک حمید مجید ـ اللّٰهم بارک علیٰ محمد وعلیٰ آل محمد کما بارکت علیٰ ابراهیم وعلیٰ آل ابراهیم انک حمید مجید**» غرض دا دی چې الله تعالیٰ مؤمنینو ته حکم ورکړ چې تاسی هم پر نبی صلوٰة (رحمت) ولیږئ نبی دغه راوښود چې ستاسی صلوٰة لیږل دغه دی چې له الله جل جلاله څخنی وغواړئ څو هغه زیات له زیات خپل رحمتونه تر ابد الاباد پوری تل ترتله پر نبی صلی الله علیه وسلم نازل وفرمایی! ځکه چې د الله تعالیٰ رحمتونه بیحده او بی نهایته دی، دغه هم د الله تعالیٰ رحمت دی چې پر دغه غوښتنه سره لا نور داسی رحمتونه پر خپل نبی صلی الله علیه وسلم نازل فرمائی چې موږ د هغو د لیږلو څخه بی د ده د توفیقه عاجز او ناتوانه یو او بیا هغه خپل لطف موږ ته منسوب وفرمائی چې ګواکی موږ هغه د ده په حضور کښې وروړاندی کړی دی حال دا چې په واقع کښې رحمت لیږونکی هم هغه واحد ذات جل جلاله دی ولی چې د هیڅ بنده له اختیاره او قوته دغه کار نه دی پوره چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له رتبی سره لایق کومه تحفه او سوغات ده ته وروړاندی کړی شی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «له الله تعالیٰ څخینی رحمت غوښتل پر رسول الله صلی الله علیه وسلم او له هغه سره د ده پر خپل خانه باندی هم درود ویل لوی قبولیت لری او پر دوی هم هغسی رحمت نازلیږی چې د دوی له شانه سره مناسب او لایق وی او له یو ځلی غوښتلو څخه لس رحمتونه پر هم هغه غوښتونکی نازلیږی اوس د هر چا چې هومره زړه غواړی هغومره رحمت دی ځان ته حاصل کړی»

**تنبیه:** د صلوٰة علی النبی صلی الله علیه وسلم په متعلق مزید تفصیلات په دغی مختصری حاشیی کښې نه ځائیږی ـ دغه موضوع دی د احادیثو په شروحو کښې ولوستله شی! په دغه مورد کښې د شیخ شمس الدین سخاوی رحمة الله علیه رساله د «**القول البدیع فی الصلوٰة علی الحبیب الشفیع**» د ویلو وړ (قابل) ده موږ د «صحیح مسلم» په شرح کښې د کفایت په اندازه د ده په متعلق څه لیکلی دی. فالحمد لله علیٰ ذلک.

---

إِنَّ الَّذِينَ يُؤْذُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَأَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا مُّهِينًا ﴿٥٧﴾

بيشکه هغه کسان چې ايذاء رسوی الله ته (په و لد او شريک) او (ايذاء رسوی) رسول الله (ته په نسبت د سحر ـ شعر ـ جنون) لرې کړی دی دوی الله (له رحمته خپله) په دنيا او په آخرت کښې او تيار کړی ئې دی دوی ته عذاب سپکوونکی (د اور د دوزخ).

**تفسير:** پاس پر مسلمانانو حکم ؤ چې دوی دی د نبی کريم عليه افضل الصلوٰة والتسليم د ايذاء سبب ونه ګرځی بلکه د دوی په انتهائی تعظيم او تکريم کښې دی زيار (محنت) او کوښښ وکړی! چې د هغه يو صورت صلوٰة او سلام ليږل دی اوس دغه راښيی چې د رسول الله ايذاء رسونکی په دنيا او آخرت کښې ملعون او مطرود او په خورا (ډير) سخت شرموونکی عذاب اخته او ککړيږی. د الله تعالیٰ ايذاء دغه ده چې د ده رسول صلی الله عليه وسلم ته څوک څه ربړ (تکليف) او ايذاء ورسوی يا د ده لوی جناب په نسبت نالايقی خبری وکړی.

وَالَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوْا فَقَدِ احْتَمَلُوْا بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿۵۸﴾ ع

او هغه کسان چې ايذاء رسوی مؤمنانو سړيو ته او مؤمنانو ښځو ته (په اتهام) په غير د هغه کار چې کړی ئې وی دوی (يعنی په ناکړی کار) پس په تحقيق باروی دوی پخپل ځان غټ دروغ او ګناه ښکاره (چې د عقوبت موجب دی).

**تفسير:** دغه منافقان ؤ چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم بد به ئې ويل يا د دوی د مطهراتو ازواجو په نسبت به ئې د دروغو خبری اتری لګه چې د «النور» په سورت کښې مسطوری دی کولی. وروسته له دی نه د ځينو هغو ايذاؤ د انسداد په نسبت ځينی ښوونی کړی شوی دی چې د دغو منافقينو له خوا به ځينی مسلمانانو ښځو ته رسيدی ـ په رواياتو کښې مذکور دی کله به چې مسلمانی ښځی خپلو ضرورياتو ته د باندی تللی نو بدکاره منافقان به دوی ته په پټونی کښې ناست ؤ او د دوی د اذيت او پريشانی اسباب به يی ورپيښوه کله چې دغه منافقين به ونيول شول نو د پوښتنې په ځواب کښې به ئې داسی ويل چې موږ په دی باندی نه وو خبر چې دغه اصيله او حره ښځه ده موږ به داسی ګڼل چې ګوندی وينځه اوامه ده نو ځکه مو وڅيرله.

يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ وَبَنٰتِكَ وَنِسَآءِ الْمُؤْمِنِيْنَ يُدْنِيْنَ

عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ

ای نبی ووایه ښځو ته دی او لونو ته دی. او ښځو (د نورو) مؤمنانو ته چه خواره دی کاندی پر تولو ځانونو خپلو له تکریو (څادرونو) پرونو خپلو څخه

**تفسیر:** یعنی وروسته د تول بدن له پټولو څخه د تکری (څادر) څه برخه پر سر او څه برخه ئی له سر ځنی راښکته پر خپله څیره باندی وځړوی. په روایاتو کښی راغلی دی چی وروسته د دی آیت له نزوله مسلمانانو ښځو به خپلی څیری او ګرد (تول) بدنونه په خپلو تکریو (څادرونو) سره پټول او بیا به د باندی داسی وتلی چی یواځی به د دوی یوه سترګه ښکاریده چی په هغه سره به لاره تلی شوی. له دی نه معلومه او ثابته شوه چی د فتنی او فساد په وخت کښی ښائی چی آزادی اصیلی ښځی خپله څیره هم پټه کړی او وینځی د شدیدهٔ ضروریاتو له سببه پر دغه نه دی مکلفی ځکه چی د دوی په کارو او چارو کښی تکلیف او حرج پیښیږی.

ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ ۗ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٥٩﴾

دغه (پټول د بدن) نژدی دی ته چی وبه پیژندی شی دوی (چی اصیلی دی) پس ایذاء به ونشی رسولی دوی ته (په زعم د وینځو) او دی الله ښه ښښونکی (د خطیاتو) ډیر رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره)

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی چی «ښه وپیژندله شی چی وینځه نه ده بلکه بی بی ده، د ننګ او ناموس میرمن ده بدبخته او بدناموسه نه ده نیک بخته ده بدذاته نه ده څو بدنیته خلق هغوی ته لاس ونه غځوی او نقاب (بغره) ئی د هغه ښنه کیښوده دغه د بهتری حکم دی وروسته ئی وفرمایل چی الله ښښوونکی مهربان دی» یعنی که سره له دومره اهتمامه کوم تقصیر پاتی شی نو د الله تعالیٰ له مهربانی نه د ښښنی توقع شته. (تکمیل) دغه خو د آزادو ښځو په نسبت انتظام و څو هر څوک دوی وپیژنی او د دوی ربړولو (تکلیفولو) ته زړه ښه نه کړی او بیا د دروغو پلمه (تدبیر) او حیله ورته جوړه نه کړی. وروسته له دی د عمومی ګوتی وروړلو او لاس غځولو په نسبت تهدید او ویرول دی اعم له دی چه له کومی میرمنی سره وی یا له کومی وینځی سره.

لَّئِن لَّمْ يَنتَهِ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ

قسم دی که منع نشول منافقان (له نفاق څخه) او هغه کسان چی په زړونو د

دوی کښې رنځ دی (د زناء کولو له بد کاری خپلی نه)

**تفسير:** يعنی پر هغو خلقو چې د بدنظرئ او شهوت پرستئ مرض او ګرګ لګيدلی وی

وَّالْمُرْجِفُوْنَ فِى الْمَدِيْنَةِ

او بدی آوازی ګدوونکی په (ښار د) مدينی کښې

**تفسير:** دغه غالباً يهودان دی يا ممکن دی چه هغه منافقان تری مراد وی چه علی‌الاکثر به ئی دروغ خبری شائع کولی او د اسلام او د مسلمانانو په خلاف به ئی شائعات او انتشارات کول. او امکان لری چې منافقان تری مراد وی

لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُوْنَكَ فِيْهَآ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٦٠﴾ مَّلْعُوْنِيْنَ ۚ اَيْنَمَا ثُقِفُوْٓا اُخِذُوْا وَقُتِّلُوْا تَقْتِيْلًا ﴿٦١﴾

نو خامخا به وګمارو مسلط به کړو مونږ خامخا تا پر دوی بيا به همسايه توب ونه کړی (دوی) د تا په دغه (مدينه کښې) مګر لږ وخت رټلی ترټلی شوی هر چيری چې ومونديلی شی وبه نيولی شی او وبه وژلی شی په وژلو (د خواری سره)

**تفسير:** يعنی که دغه بد سری د خپلو دغو حرکاتو څخه لاس وانخلی نو مونږ به تا پر هغوی مسلط کوو چې په څو ورځو کښې تاسی هغوی له مدينی منوری څخه د باندی وشړی ـ او هومره ورځی چې دلته اوسيږی د ذلت او مرعوبيت په صفت کښې به پاتی وی لکه چې دغه يهودان ګرد (تول) وشړل شول ـ او منافقانو به د دغو ويرولو او ډارولو په اثر ښائی خپله رويه بدله کړی وی نو ځکه له سزا څخه ئی نجات وموند.
حضرت شاه صاحب ليکی «هغه خلق چې بدنيت وو ـ او په مدينی منوری کښې به ئی ښځو ته لاس آچاوه او په بدو سترګو به ئی ورته کتل ـ او دروغی خبری به ئی خورولی او پخپلو اوضاعو او حرکاتو سره به ئی د مسلمانانو د ضعف او ماتی او د مخالفانو قوت او قدرت به ئی خلقو ته ښکاره کوڵ دغه ئی هغو ته وفرمايل»

سُنَّةَ اللّٰهِ فِي الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللّٰهِ تَبْدِيلًا ﴿۶۲﴾

دا یوه لاره ایښې ده الله لاره په حق د هغو (منافقانو مرجفانو) کښې چې تیر شوی دی پخوا له دی نه او له سره به نه مومې ته لاری د الله ته هیڅ تبدیل تغییر

**تفسیر:** یعنی عادت الله په هم دی دوام لری هغو کسان چې د انبیاؤ الله په مقابل کښې شرارتونه کوی او فتنه او فساد خوروی هم داسی ذلیل ـ خوار او هلاک کړی. یا دغه مطلب دی چې په پخوانیو کتابونو کښې هم دغه حکم شوی دی چې مفسدان له خپله منځه د باندی وباسیٔ! لکه چې حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه ئی له توریت څخه نقلوی.

يَسْـَٔلُكَ النَّاسُ عَنِ السَّاعَةِ ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ اللّٰهِ ۚ وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ تَكُونُ قَرِيبًا ﴿۶۳﴾

پوښتنه کوی له تا څخه خلق له قیامت (د راتلو چې کله دی؟) ووایه (ای محمده! دوی ته) بیشکه هم دا خبره ده علم د قیامت (خاص) په نزد د الله دی او څه شی پوه کړی ئی ته (په قیام د قیامت؟ یعنی ته تری بیخبره ئی بیا نو ورته ووایه) ښائی چې قیام د قیامت دی نژدی.

**تفسیر:** ـ اګر که د قیامت د صحیح وخت تعیین الله تعالیٰ هیچا ته نه دی ښوولی مګر دلته ئی د هغه د قرب په طرف اشاره فرمایلی ده. په حدیث کښې راغلی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپله د شهادت او وسطی ګوتی پورته کړی او ورسره ئی وفرمایل ـ «**انا والساعة کهاتین**» زه او قیامت د دغو ګوتو په شان یو» یعنی هومره چه وسطی ګوته د سبابی په نسبت وړاندی ختلی ده نو زه له قیامت څخه هم دغومره قدر ړومبی راغلی یم ـ قیامت ډیر نژدی او په ما پسی ژر راتلونکی دی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی
«ښائی په دغه کښې به هم منافقانو ضد عناد او سر تمبګی ځان ته غوره کړی وی د هغه څیز ځواب چې له تولی دنیا سره نشته د هم هغه پوښتنه څو څو ځلی وکړی نو هم هغه ئی هم دلته ذکر کړ» او ممکن دی چې د هغه په نسبت چې پخوا له دی نه ئی فرمایلی ؤ ﴿ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ وَاَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا مُّهِينًا ﴾ د استهزاء او تکذیب په ډول (طریقه) به ئی ویل چې هغه قیامت او آخرت به کله راځی؟ چې ته مو له هغه څخه تل ویروی ـ آخر د هغه صحیح او ټاکلی (مقرر کړی) وخت خو مونږ ته راوښیه!

إِنَّ اللَّهَ لَعَنَ الْكَٰفِرِينَ وَأَعَدَّ لَهُمْ سَعِيرًا ﴿٦٤﴾

بیشکه الله رټلی دی کافران (منکران د بعث له رحمت خپله) او تیار کړی ئی دی دوی ته سختی لمبی وهونکی اور.

**تفسیر:** یعنی د دغه لعنت اثر دی چی دوی داسی لاطائل سوالات کوی او د آخری خاتمی او د عاقبت هیڅ فکر نه کوی.

خَٰلِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۖ لَّا يَجِدُونَ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿٦٥﴾ يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ

په دغه حال کښی چی همیشه به اوسیږی په دغه اور کښی تل تر تله نه به مومی دوی هیڅ دوست (چی ئی تری وباسی) او نه کوم مددګار (چی عذاب تری لری کړی یاده کړه) هغه ورځ چی چورلولی به شی مخونه د دوی په اور کښی

**تفسیر:** یعنی پرمخی نسکور غورځولی کیږی او د دوی څیری به په اور کښی لاندی باندی کړی شی.

يَقُولُونَ يَٰلَيْتَنَا أَطَعْنَا اللَّهَ وَأَطَعْنَا الرَّسُولَا ﴿٦٦﴾

وائی به دوی ای کاشکی مونږ اطاعت کړی وی مونږ د الله او اطاعت کړی وی مونږ د رسول (د الله).

**تفسیر:** په دغه وخت به ارمان او افسوس کوی چی کاشکی مونږ په دنیا کښی د الله او د رسول الله پر وینا غوږ ایښی وی او پر هغه مو عمل کړی وی څو له دغه بدی ورځی سره مخامخ شوی نه وی.

وَقَالُوا رَبَّنَا إِنَّا أَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَاءَنَا فَأَضَلُّونَا السَّبِيلَا ﴿٦٧﴾

رَبَّنَآ اٰتِهِمْ ضِعْفَيْنِ مِنَ الْعَذَابِ وَالْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيْرًا ﴿٦٨﴾

او وايي دوی ای ربه زمونږ بیشکه مونږ اطاعت کړی و مونږ د مشرانو خپلو او د غټانو خپلو پس ورکه کړه دوی له مونږ څخنی سمه لاره. ای ربه زمونږ ورکړه دوی ته دوچنده له عذابه او لری کړه دوی له رحمته خپله رټلو ترټلو لویو سره

**تفسیر:** دغه به د غیظ او قهر له شدته وائی چی زمونږ دغو دنیوی سردارانو، مشرانو او مذهبی پیشوایانو وغولولو او تیری ایستلو او په دروغو او فریبو ئی په دغه غم او مصیبت کښی اخته کړو ـ د هم دوی په اغواؤ او لمسون د حق له لاری څخه وښوئیدو او بی لاری شو. نو که اوس مونږ ته سزا راکوله کیږی ښائی دوی ته زمونږ په نسبت دوچنده سزا ورکړه شی. او هغه لعنت او زحمت چی پر مونږ نازلیږی له هغه څخه دی زیات او ډیر پر دوی هم نازل شی. ګواکی د دوی پر دوچنده سزا ورکولو سره د خپل زړه یخول غواړی. په هم دغه مضمون یو بل آیت د «الاعراف» په (٤) رکوع کښی تیر شوی دی هلته د دوی د دغی غوښتنی ځواب هم شته هغه دی هلته بیا ولوست شی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اٰذَوْا مُوْسٰى فَبَرَّاَهُ اللّٰهُ مِمَّا قَالُوْا ۭ وَكَانَ عِنْدَ اللّٰهِ وَجِيْهًا ﴿٦٩﴾

ای هغو کسانو چی ایمان یی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو!) مه کیږئ په شان د هغو کسانو چی ایذاء ئی رسولی وه موسٰی ته پس پاک کړ دغه (موسٰی لره) الله له هغو دروغو چی دوی پری ویل او وو (موسٰی) په نزد د الله کښی وجیه (مخور خاوند د عزت)

**تفسیر:** یعنی تاسی داسی کوم کار یا خبره مه کوئ چی له هغه نبی علیه السلام ته ایذاء ورسیږی دغه ایذاء نبی علیه السلام ته هیڅ زیان او ضرر نشی رسولی ځکه چی دی د الله تعالیٰ په دربار کښی لوی عزت او پت لری او الله جل جلاله به له ده څخنی هغه د اذیت ګردی (تولی) خبری لری کوی مګر په هغه سره ستاسی آخرت خرابیږی. وګورئ چی د حضرت موسٰی علیه السلام په نسبت خلقو څرنګه د اذیت خبری کولی مګر الله تعالیٰ د موسٰی علیه السلام د وجاهت او مقبولیت له وجی د هغو تولو ابطال وفرمایه او د موسٰی علیه السلام بیخطائی او بیداغی ئی

ثابته کړه. په روایاتو کښې راغلي دي چې ځينو مفسدينو پر حضرت موسٰی علیه السلام تهمت لګاوه چې حضرت هارون علیه السلام ئې بیدیا ته بیولی او هلته ئې وژلی دی نو الله تعالیٰ په یوه خارقه طریقه سره د هغه تردید وفرمایه او په صحیحینو کښې راغلي دي چې حضرت موسٰی علیه السلام د حیاء له وجې د هغې زمانې د خلقو د رواج او دستور په خلاف به په پټ ځای کښې تل په پټه غسل کاوه. خلقو به ویل چې د دوی په بدن کښې هرومرو (خامخا) څه عیب دی یا د برص داغ لري یا ئې خصیې پړسیدلې دي یوه ورځ موسٰی علیه السلام غسل کاوه او خپل کالي (جامې) ئې ایستلې پر یوې تیږې (ګټې) ئې ایښې ؤ هغه تیږه (ګټه) د دوی له کالیو (جامو) سره وتښتیده حضرت موسٰی علیه السلام بربنډ له اوبو څخه ووت او خپله همسا ئې واخیسته او په هغې تیږه (ګټه) پسې پر منډو شو په دغه وخت کښې تولو خلقو دوی ته کتل او ګردو (تولو) ته دغه حقیقت ورځرګند (ښکاره) شو چې د دوی مبارک وجود بیخي پاک او بې‌عیبه دی څه ښه ئې ویلي هر چا چې ویلي دي

پټ ئې په جامو کړ. د هر چاچې څه عیب ولید

بې عیبو لره ورکړله جامه د بربنډتیا

ځینو مفسرینو لیکلي دي چې قارون یوې ښځې ته څه پیسې ورکړې او ویې لمسوله څو هغه په یوه لویه مجمع کښې چیرې چې موسٰی علیه السلام په موعظه او تذکیر کښې مشغول وي داسې ووائي چې (العیاذ بالله) موسٰی علیه السلام له ماسره مبتلا دی ـ بالاخر الله تعالیٰ قارون په ځمکه کښې خښ کړ او د هغې ښځې په ژبه ئې د هغه تهمت تردید وکاوه لکه چې د «قصص» په سورت کښې تیر شو.

**تنبیه:** د موسٰی علیه السلام بربنډ ځغلیدل په تیږې (ګټې) پسې د مجبوریت لامله (له وجې) ؤ ـ او ښائي دا ئې هم په خیال کښې نه وي ګرځیدلي چې دغه تیږه (ګټه) به برابره هغې لویې مجمعې ته ورځي او هلته به دریږي پاتې شو د تیږې (ګټې) دغسې حرکت نو هغه د فوق العادت په ډول (طریقه) وو د عاداتو پر خوارقو مونږ یو مستقل مضمون لیکلی دی د هغو له لوستلو څخه وروسته په دغسې جزئیاتو کښې د بحث او تمحیص ضرورت نه پاتې کیږي. په هر حال له دغې واقعې څخه ظاهریږي چې د الله تعالیٰ له جانبه د انبیاؤ علیهم السلام د پاکۍ اثبات له جسماني او روحاني عیوبو څخه تر کومې اندازې پورې منظور دی؟ او په څه اندازه د دغې شیانو په امحاء کښې اهتمام کړی شوی دی؟ څو د خلقو په زړونو کښې د دوی له جانبه د تنفر او استخفاف جذبات پیدا نشي او د قبول الحق په لاره کښې له هیڅ جانبه څه ممانعت ورپیښ نشي.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا ﴿٧٠﴾

يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۗ وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا ﴿٧١﴾

ای هغو کسانو چی ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو) وویریږئ له عذاب د الله او ووایئ خبره سمه محکمه رښتیا! چی نیک صالح کړی (الله) تاسی ته عملونه ستاسی او وبښی (الله) تاسی ته ګناهونه ستاسی او هر چا چی اطاعت وکړ د الله او د رسول د دغه (الله) پس په تحقیق بریالی (کامیاب) شو په بری ډیر لوی سره.

**تفسیر:** یعنی ای مؤمنانو! له الله تعالیٰ څخه وویریږئ او وپوهیږئ چی سمی خبری کوونکی ته د ډېرو ښو او مقبولو اعمالو توفیق ور په برخه کیږی او ګناهونه او تقصیرات ئی ورمعافیږی. په حقیقت کښی یوائځی د الله تعالیٰ او د رسول صلی الله علیه وسلم په اطاعت کښی د حقیقی بری او کامیابی سر او راز پټ دی هر هغه څوک چی دغه لاره غوره کوی په مراد رسیږی.

إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَن يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْإِنسَانُ ۖ إِنَّهُ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا ﴿٧٢﴾

بیشکه مونږ وړاندی کړ مونږ امانت (ثواب ـ عقاب) پر آسمانونو او پر ځمکه او غرونو (کله چی مو پیدا کړ په دوی کښی فهم او نطق) پس منع راوړه دوی له دی چی پورته کړی هغه (د امانت بار) او ویریدل دوی له هغه (امانت) او پورته کړ هغه (د امانت بار) انسان بیشکه چی دغه (انسان) دی ظالم ډیر بی ویری نادان (په عاقبت خپل).

**تفسیر:** یعنی انسان پر خپل ځان لوی ظلم او ستم وکړ ـ د هغه بار او پیټی په اوږو اخیستلو څخه چی آسمانونو ځمکی او غرونو د خپلی ناتوانی او عجز اظهار وکړ چی پورته کولی ئی نشو دغه ناپوه انسان هغه پر خپلو اوږو واخیست.

ددنیا له واکه نشو اخیستل د امانت
انسان واخیست دغه پیټی په خپل شا له جهالت

آسمان بار امانت نتوانست کشید

قرعه فال بنام من دیوانه زدند

حضرت شاه صاحب لیکی «یعنی پر خپل ځان ونه ویریده ـ او پری ونه پوهیده چی امانت څه شی دی؟ د بل چا څیز په داسی حال کښی ساتل چی خپل خواهش او غوښتنه تری وساتی. په آسمان او ځمکه کښی د دوی څه ذاتی غوښتنه او خواهش نشته او که دی خو هم هغه شی دی چی دوی پری قائم ولاړ دی په انسان کښی غوښتنه یو شان او په خلاف له هغی غوښتنی حکم بل شان دی. نو د دغه پردی څیز یعنی حکم په خلاف د خپل ځان ساتنه ډیر لوی زور غواړی او د هغه انجام او عاقبت دا دی چی منکران پر خپلو گناهونو نیول کیږی او حکم منونکیو ته به قصور معافیږی. اوس هم د بل چا د امانت په نسبت هم دغسی حکم شته که څوک د بل چا امانت عمداً او په قصد سره ضایع کوی نو بدل (ضمان) ئی پری اوړی که بی اختیاره تری ضایع کیږی نو پری (ضمان) او بدل نشته «موضح» اصلی خبره دا ده چی الله تعالیٰ په خپل یو خاص امانت کیښودل د مخلوقاتو په کومه نوعه کښی اراده وفرمایله چی که هغه غواړی نو دغه امانت په خپلی سعی او کسب او د مت په قدرت او قوت وساتلی شی بلکی تزئید او ترقی هم ورته ورکړه شی څو په دغه سلسله کښی د الله تعالیٰ د هر قسمو شیونو او صفاتو ظهور وشی مثلاً د هغی نوعی هغه افراد چی هغه امانت په پوره ډول (طریقه) سره محفوظ ساتی او ترقی ورته ورکړی ـ پر هغو انعام او اکرام وکړی. او هر هغه چی په غفلت او شرارت سره هغه ضائع کړی نو هغه ته به سزا ورکړه شی او هغه کسان چی په دغه مورد کښی لږ شان قصور وکړی له هغوی سره د عفوی او د ښښلو معامله وکړ شی. زما په خیال دغه امانت د ایمان او د هدایت یو تخم دی چی د بنیادمانو په زړونو کښی شیندلی (نوستلی) او کرلی شوی دی چی هم هغه ته «**مابه التکلیف**» هم ویلی شو «**لاایمان لمن لا امانة له**» چی د دغه د ساتنی او په حفاظت کښی له مداومت څخه د ایمان ونه زرغونیږی گواکی د بنی آدمیانو قلوب د الله تعالیٰ ځمکه دی چی تخم هم په هغو کښی پخپله الله شیندلی (کرلی) دی د باران ورولو له پاره ئی د رحمت وریځی هم لیږلی دی چی د هغوی له سینو ځنی د الله تعالیٰ د وحی باران هم وریدلی دی. د هر انسان فریضه دا ده چی د ایمان دغه تخم چی د الله تعالیٰ امانت دی ابته (خراب) او ضائع نه کړی بلکی په پوره سعی، کوشش، جهد، جد، تردد ـ او تفقد سره د هغه پرورش او پالنه وکړی او ډیر زیات دقت دی وکړی څو په سهو، خطا او غلطی هم دغه تخم ونه سوزیږی او ضائع نشی د هم دغه په لوری د حذیفه رضی الله تعالیٰ عنه په دغه حدیث کښی اشاره ده «**ان الامانات نزلت من السماء فی جذر قلوب الرجال ثم علموا من القرآن ـ الحدیث**» دغه امانت هماغه د هدایت تخم دی چی د الله تعالیٰ له جانبه د انسانانو په قلوبو کښی خښ کړی شوی دی بیا د قرآن او د سنت د علومو باران پری وشو چه که له هغه څخه پوره گټه (فائده) او انتفاع واخیستی شی نو د ایمان دغه مبارکه ونه زرغونه کیږی، لوئیږی، وده کوی، غټیږی میوو او ثمرو ته رسیږی او انسان د هغی له خوږو اثمارو څخه متلذذ او متمتع کیږی او د استثمار موقع

مومي او که په انتفاع کښې څه قصور او کوتاهي وکړي شي نو په هماغه اندازه د دغي وني په وده او لوئيدلو کښې نقصان واقع کيږي که بيخي ترې غافل کيږي او له سره ورته نه متوجه کيږي نو دغه تخم بيخي خراب ـ ضائع او برباديږي. هم دغه امانت ؤ چې الله تعالیٰ آسمانونو او ځمکې او غرونو ته وروړاندې کړ ـ مګر په هيڅ يوه له هغو کښې دغسې يو قوت او استعداد نه ؤ چې د دغه عظيمه امانت د پورته کولو زور او حوصله ولرې او هر يوه له دوی د حال په لسان يا د قال په بيان د دغه غير قابل متحمل بار او پيتی له پورته کولو څخه په ويره سره انکار وکړ او علیٰ رؤس الاشهاد ئې ووېل چه زمونږ له عهدې او توانه دغه بار ډير درونډ او ثقيل دی او نه ئې شو پورته کولی. ته پخپله فکر او دقت وکړه چه ماسواء له انسانه به بل کوم مخلوق وي چې پخپل کسب او محنت سره د ايمان د دغه تخم حفاظت او پرورش وکړی؟ او د ايمان دغه شجره مشجر او مثمر وګرځولی شي؟ فيالحقيقت د دغه عظيمالشان امانت د حق ادا کول او د يوې يابسې ځمکې څخه چې په هغې کښې د دی د مالک له جانبه تخم شيندلی (کرلی) شوی وی تکه شنه ميوه داره ونه زرغونول او لويول د هم دغه ظلوم او جهول انسان حصه کيدی شي چې له هغه سره صالحالزراعت ځمکه شنه او په پخپل محنت سعی او تردد سره د الله تعالیٰ قدرت ده ته د کوم شي د زرغونولو او لويولو او په ميوو راوستولو قوت او قدرت ورعطاء کړی دی.

«ظلوم» د «ظالم» او «جهول» د «جاهل» مبالغه دی. ظالم او جاهل هغه چاته ويلی شي چې بالفعل له عدله او علمه تش وي مګر د هغه استعداد او صلاحيت او د دغو صفاتو د حصول قوه ولري پس هغه مخلوق چې بدءالفطرت کښې په علم او عدل سره متصف وي او د يوې شيبې له مخې هم دغه اوصاف له ده څخه نشي بيليدی مثلاً ملائكة الله يا هغه مخلوقات چه د دغو شيانو صلاحيت له سره نه لري مثلاً آسمان، ځمکه، غر او نور ظاهر دی چه دغه دواړه د الله تعالیٰ د دغه امانت حامل نشي کيدی بيشکه ماسواء له انسانه يوه بله نوعه هم شته چه هغه پيريان دی او په هغوی کښې فيالجمله د دی د تحمل استعداد موندلی کيږي نو ځکه په ﴿ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴾ کښې دغه دواړه سره جمع کړی شوی دی. ليکن د انصاف خبره خو دا ده چه د دی امانت د حق د اداء استعداد په هغوی کښې دومره ضعيف وو چه د حمل الامانت په مقابل کښې دومره د تذکر قابل نه وو او قابل الاعتنا نه ګڼلی کيږي. ګواکې په دغه معامله کښې هغوی هم د انسانانو د تابعانو په شان درولی شي او د دوی د مستقل نوم اخستلو ته څه ضرورت نه دی پاتی. والله تعالیٰ اعلم بالصواب.

---

لِّيُعَذِّبَ اللَّهُ الْمُنَافِقِينَ وَالْمُنَافِقَاتِ وَالْمُشْرِكِينَ وَالْمُشْرِكَاتِ وَيَتُوبَ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ ۗ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٧٣﴾

---

(دغه د امانت غرض د دی دپاره وو) چه عذاب ورکړي الله منافقانو سړيو او

منافقاتو ښځو ته او مشرکانو سړیو او مشرکاتو ښځو ته او رجوع په رحمت سره وکړی الله پر مؤمنانو سړیو او مؤمناتو ښځو، او دی الله ښه ښښونکی (د خطیاتو) ډیر رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره).

---

**تفسیر:** زما په خیال که دلته د ﴿ وَيَتُوبَ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ ﴾ معنی په معافولو سره وانه خیسته شی بلکی که پر حال د هغوی د متوجه کیدلو او په مهربانی فرمایلو سره واخیسته شی بهتره ده لکه چه په ﴿ لَقَدْ تَابَ اللَّهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ ﴾ کښی اخیست شوی. دغه خو د کاملینو مؤمنینو بیان شو او په ﴿ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا ﴾ کښی ئی د قاصرینو او مقصرینو د حال په طرف اشاره وفرمایله.

**«والله تعالیٰ اعلم لنسأل الله تعالیٰ ان یتوب علینا ویغفرلنا ویثبتنا بالفوز العظیم انه هو الغفور الرحیم جل جلاله وعم نواله واجل شانه واعظم برهانه**

**تمت سورة الاحزاب بعون الله الملک الوهاب فلله الحمد والمنة**

---

سورة سبأ مکیة الا آیة (٦) فمدنیة وهی اربع وخمسون آیة وست رکوعات رقمها (٣٤) تسلسلهاحسب النزول (٥٨) نزلت بعد سورة لقمان

د «سبأ» سورت مکی دی پرته (علاوه) له (٦) آیته څخه چی مدنی دی (٥٤) آیتونه او (٦) رکوع لری په نزول کښی (٥٨) او په تلاوت کښی (٣٤) سورت دی وروسته د «لقمان» له سورت څخه نازل شوی دی

---

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ○

---

(شروع کوم) په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

---

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي الْآخِرَةِ ۚ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ ①

---

توله ثناء صفت خاص الله لره دی هغه چه خاص هغه ته دی هر هغه «شیان» چه په آسمانونو کښی دی او هر هغه شیان چی په ځمکه کښی دی (سره له آسمانونو او ځمکی ملکاً خلقاً عبیداً) او خاص هم دغه (الله) لره ده توله ثناء صفت په آخرت کښی (لکه چی په دنیا کښی هم دی) او هم دغه (الله)

ښه حکمت والا ښه خبردار دی.

**تفسير:** يعني ګرد (ټول) محاسن او محامد او تعريف هغه الله جل جلاله ته دی چه واحد احد دی او بی د نورو له شرکته د ګردو (ټولو) آسمانونو او د ځمکو د شيانو مالک او خالق دی او په نهايت حکمت او خبرداری سره د دوی انتظام او تدبير کوی او دغه سلسله ئی چتی (فضول) او بيکاره نه ده پيدا کړی، د داسی حکيم او دانا په نسبت دغه ګمان نشی کيدی. ضرور دغه نظام بالاخر پر کومی اعلیٰ نتيجی منتهی کيدونکی دی چه هغه ته آخرت وائی. او څرنګه چه هم دی په دنيا کښی يواځی د ټولو تعريفاتو مستحق دی په آخرت کښی هم يواځی هم دی د ټولو تعريفاتو مستحق دی بلکه دلته خو ظاهراً د نورو کسانو هم لږ څه تعريف کيدی شی ځکه چه د مخلوق فعل د خالق اشعه او د دوی کمالات د ده د حقيقی کمال پلوشه ده ليکن هلته نور ګرد (ټول) وسايط او پردی لری کيږی او هر شی ليدل کيږی. هغه ګرد (ټول) د هم ده له طرفه وی نو ځکه صورتاً او معناً او حقيقتاً بلکه له هر حيثيته يواځی د هم هغه مطلق محمود تعريف پاتی کيږی.

يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا ط

معلوم دی (الله ته) هر هغه شی چه ښکته ننوځی په ځمکه کښی او هر هغه شی چه بيرون راوځی له دغی (ځمکی) څخه او هر هغه څيز چه راښکته کيږی له آسمانه او هر هغه شی چه پورته خيژی په دغه (آسمان) کښی.

**تفسير:** يعني په آسمان او ځمکه کښی هيڅ يو لوی او وړوکی داسی څيز نشته چه د ده له علم څخه خارج وی هر هغه شی چی په ځمکه کښی ښکته ننوځی مثلاً حشرات ـ خوځندی ـ د نباتاتو تخم ـ د باران اوبه ـ د مړيو اجساد او هر هغه شيان چه له ځمکی څخه د باندی راوځی او بهر کيږی مثلاً زراعت ـ نباتات ـ معدنيات او نور او هغه شيان چه د آسمان له جانبه راښکته کيږی لکه باران ـ وحی ـ تقدير پرښتی او نور او هغه شيان چی پورته خيژی آسمان ته مثلاً روح دعاء ـ اعمال ـ ملائک او نور پر دغو ګردو (ټولو) انواعو او جزئياتو د الله تعالیٰ علم محيط دی.

وَهُوَ الرَّحِيمُ الْغَفُورُ ﴿٢﴾

او هم دغه (الله) ډير رحم والا دی (په انعام د اجر او ثواب سره) ښه ښښونکی

دی (د خطیاتو).

**تفسیر:** یعنی د دغه گرد (تول) د ژوندون رونق ـ ښائست د الله تعالیٰ له رحمته او بښنی څخه دی. که د بندگانو د دغی ناشکری او د حق نه پیژندلو په اثر ـ لاس په لاس د دوی په نیونو باندی لاس پوری کیدی نو دغه گرد (تول) رونق او ښائست به په یوه لمحه کښی ختمیده ﴿وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللَّهُ النَّاسَ بِمَا كَسَبُوا مَا تَرَكَ عَلَىٰ ظَهْرِهَا مِن دَابَّةٍ﴾ (د فاطر (٤٥) آیت (٥) رکوع (٢٢) جزء)

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَأْتِينَا السَّاعَةُ ۖ

او وائی هغه کسان چه کافران شوی دی چی رابه نشی مونږ ته قیامت.

**تفسیر:** ولی به قیامت نه راځی؟ د هغه منشأ وروسته راځی ﴿إِذَا مُزِّقْتُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ إِنَّكُمْ لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ﴾

قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتَأْتِيَنَّكُمْ

ووایه (ای محمده! دوی ته چه ولی به رانشی) بلکه را به شی قسم دی زما په رب خپل چی خامخا رابه شی هرومرو (لازماً) دا قیامت تاسی ته.

**تفسیر:** یعنی هغه معصوم او مقدس انسان چه د ده د صدق او امانت اقرار له نورو گردو (تولو) موجوداتو څخه ږومبی وو اوس له ساطعو او قاطعو براهینو څخه د ده صداقت په پوره ډول (طریقه) سره ښکاره شو. په مؤکد قسم سره د الله تعالیٰ له طرفه خبر ورکوی چه خامخا قیامت راتلونکی دی نو بیا ئی هیڅ علت او سبب نه دی معلوم چی ولی ئی دوی نه منی ـ هو! که کومه محاله خبره یا له حکمت څخه مخالفه کومه خبره ئی کړی وی نو د تردید او انکار ځای به په کښی وو ـ لیکن دغه خو نه محاله ده ـ او نه له حکمت څخه مخالفه ده نو بیا له هغه څخه انکار که ضد او عناد او سرتمبگی (سرکشی) نه ده نو څه ده؟

عَالِمِ الْغَيْبِ ۖ لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ وَلَا أَصْغَرُ مِن ذَٰلِكَ وَلَا أَكْبَرُ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ ﴿٣﴾

(هسې رب) چه عالم دی په غیبو نه پټیږی له ده په اندازه د یوی ذری په آسمانونو کښې او نه په ځمکه کښې او نه وړوکی له هغې ذری او نه لوی (تری) مګر (چه دا ټول لیکلی پراته دی) په کتاب ښکاره (لوح محفوظ) کښې.

**تفسیر:** یعنې په هم هغه عالم‌الغیب قسم دی چې د ده له محیط علم څخه د آسمان او د ځمکې هیڅ یو لوی یا وړوکی شی یا یوه ذره یا له ذرې څخه وړوکی یو شی هم نه دی پټ او نه هیڅ شی ترې غائبیږی. ښائی چې دغه ئې ځکه فرمایلی وی چه د قیامت د وخت تعیین مونږ له سره نشو کولی د هغه علم له هغه چا سره دی چه د هغه له علم څخه هیڅ یو شی خارج نه دی. مونږ ته هم هغومره خبر چې هغه را کړی دی هغه مو بې له زیادته او تنقیصه درورسوه او په دې سره د هغې خبرې جواب هم وشو ﴿ وَقَالُوٓاْ أَءِذَا ضَلَلۡنَا فِى ٱلۡأَرۡضِ ﴾ الآیة - یعنې کله چې زمونږ ذرات په ځمکه کښې منتشر شی بیا به څرنګه سره یو ځای کیږی؟ نو دغه ئې راوښوول چې هیڅ یوه ذره هم د الله تعالیٰ له علمه نه ده غائبه او پخوا ئې دغه راښوولی وو چې د آسمان او د ځمکې پر هر یوه شی د ده قبضه ده نو بیا به ده ته څه مشکل وی چه ستاسی ګرد (ټول) منتشر ذرات یو ځلی سره راټول کړی.

**تنبیه:** له ښکاره کتاب څخه «لوح محفوظ» مراد دی چې په هغه کښې هر شی سم د الله تعالیٰ له علمه سره ثبت دی. دا ټول ځکه لیکلی پراته دی په کتاب ښکاره لوح محفوظ کښې

لِّيَجۡزِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ۝٤ وَٱلَّذِينَ سَعَوۡ فِيٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٞ مِّن رِّجۡزٍ أَلِيمٞ ۝٥

دپاره د دی چې جزا ورکړی (الله) هغو کسانو ته چې ایمان ئې راوړی دی او کړی ئې دی ښه (عملونه) دغه (نیکوکاران مؤمنان چې دی) شته دوی ته مغفرت ښښنه او رزق روزی ښه (د عزت چې جنت دی). او هغه کسان چې سعی کوښښ کوی په (ابطال د) آیتونو (د قرآن) زمونږ په دی حال چې عاجز کوونکی وی د الله په زعم خپل دغه کسان شته دوی ته عذاب له عذابه دردناکه څخه.

**تفسیر:** یعنی د قیامت راتلل ځکه ضروری دی چی خلقو ته د دوی د نیکی او بدی نتیجه او ثمره ورکړه شی او د الله تعالیٰ د تولو صفاتو کامل ظهور په عمل راشی.
**تنبیه:** «هغه کسان چی سعی او کوښښ کوی په باطلولو د آیاتونو د قرآن زمونږ په دی حال چی عاجزونکی الله وی په زعم خپل» مطلب دا دی چی زمونږ د آیاتونو په ابطال او د خلقو په ممانعت کښی د هغو له قبول څخه قولاً او فعلاً زیار (محنت) او کوښښ کوی او د دغه مقصد د په مخ بیولو دپاره تینګ ولاړ دی ګواکی دوی (العیاذ بالله) داسی غواړی چه الله تعالیٰ عاجز کړی او پړ او مغلوب ئی وګرځوی او داسی ګنی چه دوی د ده د قدرت په لاس کښی راتلونکی نه دی او هرومرو (خامخا) له ده څنی خپل ځان بچ کوی.

وَيَرَى الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ الَّذِي أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ هُوَ الْحَقَّ وَيَهْدِي إِلَىٰ صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ ﴿٦﴾

او (بل دپاره د دی لیکلی پراته دی په لوح محفوظ کښی) چی وینی هغه کسان چی ورکړی شوی دی دوی ته علم فهم هغه (قرآن) چه نازل شوی دی تاته له (جانبه د) رب ستا هم هغه حق دی او سمه لاره ښیی طرف د لاری (د هغه الله ته چه) ښه زبردست ډیر ثنا ویلی شوی دی.

**تفسیر:** یعنی ځکه قیامت راتلونکی دی څو هغه کسان چی پری یقین او باور لری هغو ته عین‌الیقین حاصل شی او په خپلو سترګو سره هم د هغه وقوع او قیامووینی او ښه وپوهیږی چی د لوی قرآن بیان څرنګه بی له تزئیده او تنقیصه صحیح او جوت ثابت شو. او بیشکه چی قرآن هم هغه لوی او زبردست کتاب دی چی د دغه زبردست د محامدو او محاسنو مالک الله ته مو رسوی او سمه صافه لاره راښیی. ځینی مفسرین د ﴿ وَيَرَى الَّذِينَ ﴾ الآیة ـ مطلب داسی اخلی چی د ﴿ وَالَّذِينَ سَعَوْ فِي آيَاتِنَا مُعَاجِزِينَ ﴾ په برخلاف هغه کسان چی پوهان او اهل العلم دی اعم له دی چی مسلمانان وی که کتابیان هغوی پوهیږی او وینی چی د قیامت او نورو په متعلق د قرآن المجید بیان بیخی صحیح دی او انسانانو ته د وصول الی الله ښه طریقه ورښیی او په سمه صافه لاری ئی برابروی. دا (یری) فعل قلب دی چی دوه مفعوله غواړی او دا (الذین) سره له خپلی صلی فاعل دی او دا بل (الذی) سره له خپلی صلی ئی مفعول اول دی او دغه (هو) ضمیر د فصل دی او دا (الحق) ئی مفعول ثانی دی او هم دغه جمله د (یری) بیا په موضع د نصب کښی عطف ده په تیره جمله د (یجزی) باندی او جمله د (و یهدی) عطف دی په (الحق) باندی حاصل دا شو یعنی قسم دی چی رابه شی قیامت جزا به ورکړی خدای مؤمنانو لره او چی معلوم به شی عالمانو ته په وخت د ظهور د قیامت کښی عیاناً چی دا منزل حق دی لکه چی معلوم ؤ

ورته پخوا برهاناً .

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا هَلْ نَدُلُّكُمْ عَلَىٰ رَجُلٍ يُنَبِّئُكُمْ إِذَا مُزِّقْتُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ إِنَّكُمْ لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ ۝٧ أَفْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَم بِهِ جِنَّةٌ

او وائی هغه کسان چی کافران شوی دی آیا (وښیو) دلالت کړو تاسی په یو سړی چی خبر درکوی تاسی ته کله چی ذری ذری کړی شی تاسی په کامل ذره ذره کیدلو سره بیشکه چی تاسی خامخا په پیدایښت نوی کښی یئ. آیا له خپله ځانه تړلی دی (محمد) پر الله باندی دروغ ؟ یا وریوری لیونتوب دی؟.

**تفسیر:** د قریشو کفارو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په شان کښی دغسی گستاخی او سپین سترگی کوله یعنی راځئ چی مونږ تاسی ته هغه سړی دروښیو چی وائی چه ستاسی دوړی او ذری او بخرکی به وروسته له مړ کیدلو او پرسیدلو او وراسته کیدلو او خاورو او دوړو کیدلو څخه بیا له خاورو څخه راټولیږی او له تاسو ځنی هم داسی روغ جوړ انسانان پیدا کیږی ـ او بیا به هم داسی ژوندی له قبرونو څخه راپاڅولی کیږئ. ښه نو پر داسی چتی (بیکاره) او مهملو خبرو څوک یقین او باور کولی شی؟ او څرنگه ئی منل امکان لری؟ له دوو حالو څخه خالی نه دی یا خو دغه شخص عمداً په قصد سره پر پاک الله دروغ تړی چی ده داسی خبر راکړی دی که نه لیونی او سودائی دی او دماغ ئی پخپل ځای کښی نه دی. نو ځکه دا هسی اپلتی او چتی (بیکاره) خبری کوی (العیاذ بالله).

بَلِ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ فِي الْعَذَابِ وَالضَّلَالِ الْبَعِيدِ ۝٨

(نو فرمائی الله تردیداً داسی نه دی) بلکه هغه کسان چی ایمان نه راوړی په آخرت په عذاب کښی به وی (په عقبیٰ کښی) او په گمراهی لوی کښی (لویدلی دی په دنیا کښی)

**تفسیر:** یعنی نه دروغ دی او نه جنون بلکه خالی دغه خلق پخپله د عقل ـ پوه ـ صدق او صواب له لاری څخه ښوئیدلی دی او له حق او یقین څخه ډیر لری لویدلی دی چی دغسی چتی (بیکاره) خبری کوی او په خپل دغه انکار او تکذیب سره خپل ځان په آفت او عذاب کښی اخته کوی فی‌الحقیقت دغه ډیر لوی عذاب دی چی د انسان دماغ په دغه اندازه سره خراب او مختل شی چی دی د الله تعالیٰ انبیاؤ ته مفتری ـ مجنون او نور شیان ووائی (العیاذ بالله)

أَفَلَمْ يَرَوْا إِلَىٰ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُم مِّنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ۚ إِن نَّشَأْ نَخْسِفْ بِهِمُ الْأَرْضَ أَوْ نُسْقِطْ عَلَيْهِمْ كِسَفًا مِّنَ السَّمَاءِ ۚ

آیا نه گوری (دا کافران) هغه څیز ته چه په مخ کښې د دوی دی او هغه څیز ته چې وروسته د دوی دی. له آسمانه او له ځمکې (چې دوی په کښې محاط وی) که چیرې اراده وفرمایو نو څیرې به کړو په دوی ځمکه (او په کښې به ئې ډوب کړو په شان د قارون) یا به وغورځوو پر دوی باندې یوه ټوټه له آسمانه.

**تفسیر:** آیا دغه خلق ړانده شوی دی چه آسمان او ځمکې ته هم نه گوری او خپل اطراف او حوالي او شاؤ خوا ته هم سترگې نه غړوی چې پر موجوداتو خپل عقل او فکر وچلوی ـ پر دغې خبرې باندې خو په خپله دوی هم قائلان دی چې د دوی او د گردو (تولو) علویاتو او سفلیاتو خالق الله دی. بیا نه آیا هغه الله ته چې د دغو شیانو مالک او خالق دی د دغو شیانو خرابول او ماتول او بیا جوړول هغه ته څه سختی او اشکال لری؟ او هغه ذات ته چې داسې عظیم الشان اجسام جوړولی شي او لاندې باندې او ویجاړولی ئې شي د انسانی جسم تخریب ـ تفکیک او تجزیه او بیا ئې سره تولول ـ ژوندی کول او پاځول څه اشکال لری؟ آیا دغه خلق له دی نه نه ویریږی چې د الله تعالیٰ پر ځمکه او تر آسمان لاندې اوسیږی او بیا داسې د بې ادبی او گستاخی خبرې کوی او بیځایه خپلې ژبې خوځوی ـ حال دا چې که الله تعالیٰ اراده وفرمائی په یوه رپه کښې به دوی یا په ځمکه خښوی یا به له آسمانه یوه ټوټه پرې وغورځوی او دوی به بیخې سپیره او فنا کړی او په هم دغه دنیا کښې به د قیامت یوه وړوکې نمونه دوی ته وښیی.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيبٍ ﴿٩﴾

بیشکه په دغه (کتلو د پاس او تیت او خسف او اسقاط) کښې خامخا دلائل (د قدرت) دی دپاره د هر بنده رجوع کوونکی (الله ته)

**تفسیر:** یعنی هر هغه بنده چې له عقل او انصاف څخه کار واخلی نو د الله تعالیٰ په طرف ئې رجوع کیږی ځکه چې یوه او عاقل انسان ته په علویاتو او سفلیاتو او مافیهما کښې ډیر زیات د قدرت لوئی نښې او دلائل موجود دی د دغه منظم او ډک له حکمته نظام له لیدلو څخه پوهیږی چې هرومرو (خامخا) دغه گرد (تول) یوه ورځ خپلې علیا او اکملې نتیجې ته رسیدونکې دی

چې د هغه نوم «دارالآخرة» دی کله چې دوی دغه تصور وکړی نو زیات له زیاته خپل مالک او خالق او الله تعالیٰ ته رجوع او میلان کوی او د هغو علوی او سفلی نعماؤ چې ورته رسیږی شکریه اداء کوی له دغو بندګانو څخه د ځینو تذکره پاک الله داسی فرمائی چې.

## وَلَقَدْ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ مِنَّا فَضْلًاؕ يٰجِبَالُ اَوِّبِيْ مَعَهٗ وَالطَّيْرَۚ

او خامخا په تحقیق ورکړی ؤ مونږ داؤد ته له جانبه خپله فضل (لوئی پر نورو، وموفرمایل غرونو ته چې) ای غرونو راوګرځوئ (ښه) غږونه خپل له ده سره (په وخت د تسبیح کښی او له ده سره تسبیح ویل) مرغانو هم.

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ حضرت داؤد علیه السلام ته له نبوت سره غیر معمولی سلطنت هم ورعنایت فرمایلی وو حضرت داؤد علیه السلام به کله کله بیدیا او صحرا ته هم ووت او هلته به د الله تعالیٰ په ذکر او یاد مشغولیده او د الله تعالیٰ له خوفه به ئی ژړل او په تسبیح او تهلیل به مشغولیده ـ او په خپل هغه ښه الحان او ښکلی غږ سره به چې ضرب‌المثل دی د (زبور) په لوستلو مصروفیده د ده د تسبیح او تهلیل د عجیب او غریب تاثیر په سبب به له ده سره غرونو هم تسبیح لوستلی او ګرد (تول) طیور او مرغان به هم د دوی په شاؤ خوا کښی سره تولیدل او د ده په شان هغوی به هم تسبیح او تهلیل وایه الله تعالیٰ په خپل فضل او کرم ده ته دغه خاصه بزرګی او لوئی ورعطا، فرمایلی وه. که د غرونو له تسبیح څخه د ده د غږ محض عکس العمل (انګی) مراد وی یا هغه عمومی تسبیح مراد وی چې هر شی ئی د خپل حال یا د قال په ژبه سره اداء کوی یا ئی وائی نو د حضرت داؤد علیه السلام د مخصوص فضل او شرف په ذیل کښی به د دغی خبری تذکره بیخی مهمله او بی معنی وی (العیاذ بالله) د «یا جبال اوبی معه» حکم تکوینی دی «امر وفرمایه الله داؤد ته داسی»

## وَاَلَنَّا لَهُ الْحَدِيْدَۙ﴿۱۰﴾ اَنِ اعْمَلْ سٰبِغٰتٍ وَّقَدِّرْ فِي السَّرْدِ

او پسته کړی وه مونږ ده ته اوسپنه چې جوړوه څغری ارتی اوږدی او اندازه کوه په اوبدلو کښی (چې حلقی ئی سره برابری وی)

**تفسیر:** د حضرت داؤد علیه السلام په حق کښی ئی اوسپنه لکه موم پسته وګرځوله او ده به بی د اور او د صناعیه ؤ آلاتو له مرستی (مدد) اوسپنه په هر شان سره چې غوښته کړوله او تاووله به ئی او پنده او نری کوله او له هغی ځنی به ئی څغری او نور دقیق او نفیس آلات او ادوات جوړول او پلورل (خرڅول) به یی او له هغی څخه به ئی د خپل قوت او معاش وسایل برابرول او

پر اسلامي بيت المال به ئې خپل د اعاشې بار نه غورځاوه. وائي چې کړې لرونکې ځغرې پروبې ځلې د ده له لاسه ايجاد او اختراع وموندله چې ارتې او فراخې وې الله تعالیٰ ده ته امر ورکړ چې فراخې او ارتې ځغرې جوړوه! او د هغو حلقې او کړې په ښه نظم او ترتيب سره ونښلوه! چې د خپل لوېوالي ـ وړوکوالي او نرۍ والي په اعتبار يو له بل سره هم متناسبې وي.

وَاعۡمَلُوا صَٰلِحًاۖ إِنِّي بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ١١

او عمل کوئ تاسې د نيکيو بيشکه زه چې يم پر هغو کارونو چې کوئ ئې تاسې ښه ليدونکې يم.

**تفسير:** يعنې د دغو چارو او صنايعو په مشغوليت کښې د حقيقي منعم له ياده مه غافليږئ! او تل ترتله په صالحه ؤ اعمالو کښې مشغول اوسئ! او دغه خبره په ياد ولرئ چې الله تعالیٰ ګرد (تول) اعمال او احوالويني.

وَلِسُلَيۡمَٰنَ ٱلرِّيحَ غُدُوُّهَا شَهۡرٞ وَرَوَاحُهَا شَهۡرٞۖ وَأَسَلۡنَا لَهُۥ عَيۡنَ ٱلۡقِطۡرِۖ

او (مسخر کړې مو ؤ) سليمان ته باد (د) سبائي (منزل) د هغه (د) يوې مياشتې او (د) بيګائي (منزل) د هغه د يوې مياشتې (لاره) وه او بهولې مو وه د ده دپاره چينه د ويليو کړيو شويو مسو،

**تفسير:** د حضرت سليمان عليه السلام داسې يو تخت ؤ چې په فضا کښې الوته او دې به ئې له شام څخه يمن ته او له يمن څخه شام ته رساوه الله تعالیٰ د سليمان دپاره باد تابع او مسخر کړې ؤ نو ځکه د باد وسيله به ئې د يوې مياشتې مسافه (واټن) په نيمه ورځ کښې طې کوله د «انبياء» او د «نمل» په سورتونو کښې د دې څه بيان تير شوی دی او وروسته له دې نه د «ص» په سورت کښې ئې هم څه بيان راځي. د ويليو کړيو شويو مسو د چينې په نسبت وائي چې الله تعالیٰ دغه چينه د يمن په اطرافو کښې بهولې وه چې جناتو به هغه په قالبو او سانچو کښې اچول او ترې لوی لوی ظروف (ديګونه ـ لګنونه او نور) به ئې جوړول چه پر هر يوه د هغو کښې د يوه لښکر طعام پخيده او پرې خوړول کيده، سليمان عليه السلام به لمر خاته له «دمشق څخه روانيده د غرمې خوب به ئې د (پارس) په (استخر) کښې کاوه او شپه به ئې زمونږ کابل ته راوړه چې د ده دغه لس ساعته منزل مساوی ؤ له دوه مياشتې منزل سره» (روح

المعاني ـ مدارک )

وَمِنَ الْجِنِّ مَنْ يَّعْمَلُ بَيْنَ يَدَيْهِ بِإِذْنِ رَبِّهٖ ۭ وَمَنْ يَّزِغْ مِنْهُمْ عَنْ اَمْرِنَا نُذِقْهُ مِنْ عَذَابِ السَّعِيْرِ ﴿۱۲﴾

او (مسخر کړی مو ؤ ده ته) له پیریانو هغه څوک چې کار به ئې کاوه په مخ د ده کښې، په اذن (حکم) د رب د ده، او هر چا چې به څنګ سرکشي وکړه له دوی له امره حکمه زمونږ (او د سلیمان اطاعت به ئې نه کاوه) نو وبه څکوو مونږ هغه ته (په آخرت کښې) له عذاب د اور.

**تفسير:** یعنې ډیر پیریان چې هغه ئې په بل ځای کښې په شیاطینو سره تعبیر فرمایلې دی د معمولي چوپړانو او پندیانو په شان به په راز راز (قسم قسم) چارو او خدماتو کښې مشغول ؤ ـ د الله تعالیٰ له طرفه دوی ګرد (ټول) محکوم شوی ؤ څو سلیمان علیه السلام ته اطاعت وکړی او که لږ څه سرکشي وکړی نو په اور کښې به غورځول کیږی.

يَعْمَلُوْنَ لَهٗ مَا يَشَاۗءُ مِنْ مَّحَارِيْبَ وَتَمَاثِيْلَ وَجِفَانٍ كَالْجَوَابِ وَقُدُوْرٍ رّٰسِيٰتٍ ۭ

جوړوه (دغو پیریانو) دغه (سلیمان) ته هر هغه شي چې ده غوښت له هسکو (اوچتو) کلاؤ او تمثالونه او لوی لګنونه په شان د تالاو او (په شان د لویو کلکو) دیګونو پر نغریو پراته.

**تفسير:** یعنې لوی لوی مساجد ـ کلاوی ـ محلات به ئې پر پیریانو تعمیر او ودانول ـ او مجسمې او تصاویر به ئې پر دوی جوړول چې ممکن په هغه شریعت کښې به دغه تصاویر نه ؤ ممنوع او په محمدیه شریعت کښې ممنوع درولې شوی دی او د مسو (تتو) لوی لوی داسی لګنونه به ئې جوړول چې لکه لوی تالاو او حوض به ؤ او داسی لوی لوی دیګونه به ئې هم جوړول چې له خپل ځای څخه له سره نه خوځیدل او په هغه خپل ځای کښې ځای په ځای باندی کیدل.

اِعْمَلُوْٓا اٰلَ دَاوٗدَ شُكْرًا ۭ وَقَلِيْلٌ مِّنْ عِبَادِيَ الشَّكُوْرُ ﴿۱۳﴾

(وفرمايل مونږ) عمل كوئ (د نيكيو ـ اى) آل د داؤده ! دپاره د شكر، او لږ دى له بندګانو زما شكر ايستونكى (احسان منونكى).

**تفسير:** يعنى اى د داؤد كورنى! د دغو عظيم‌الشانو انعاماتو او احساناتو شكر اداء كوئ محض په ژبه سره نه بلكه په عمل سره هم داسى كار وكرئ چى له هغو د الله تعالىٰ شكر ايستل مترشح وى. خبره دا ده چه الله تعالىٰ لږ ډير احسان خو پر هر چا كوى ليكن پوره شكر ايستونكى بندګان ډير لږ دى كله چى لږ دى نو قدر به ئى زيات كيږى لهٰذا كامل شكر ايستونكى شئ! او خپل قدر او منزلت زيات كرئ! دغه خطاب د داؤد عليه السلام كورنى او تبر ته دى. ځكه علاوه پر نورو مستقلو احساناتو پر داؤد عليه السلام باندى احسان من وجه پر ګردو (تولو) احسان دى. وائى چى داؤد عليه السلام د خپل ګردى (تولى) كورنى دپاره داسى د اوقاتو تقسيم جوړ كړى ؤ چى د هغه په اساس د شپو ورځو په ځليرويشتو ساعتو كښى هيڅ يو وخت داسى نه ؤ چى د ده له كورنى ځنى به يو نه يو تن د الله تعالىٰ په عبادت كښى مشغول او لګيا نه وو.

فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ الْمَوْتَ مَا دَلَّهُمْ عَلَىٰ مَوْتِهِ إِلَّا دَابَّةُ الْأَرْضِ تَأْكُلُ مِنسَأَتَهُ ۖ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ أَن لَّوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ الْغَيْبَ مَا لَبِثُوا فِي الْعَذَابِ الْمُهِينِ ﴿١٤﴾

پس كله چى حكم وكړ مونږ پر سليمان د موت (او دى مړ ولاړ وو، تكيه پر همسا يو كال) نو هيچا خبر كړى نه ؤ دغه پيريان په مرګ د دغه (سليمان) مګر چنجى د ځمكى (وينو) چى وئى خوړه همسا د ده پس كله چى ولويد (سليمان پر ځمكه) نو معلوم شو پيريانو ته دغه كه چيرى وى چى پوهيدى په (علم د) غيب نو نه به ئى تيراوه (سلامت يو كال) په تكليف مشقت سپكوونكى كښى.

**تفسير:** كله چى حضرت سليمان عليه السلام پر پيريانو د بيت المقدس په تجديد كښى مشغول او لګيا وو مطلع شو چى زما د موت نيته رانژدى شوى ده نو پر پيريانو ئى د خپل ځان دپاره يوه د بلورو داسى مانى جوړه كړه چى د هغى منځنى سطحه له ورا ښكاريده بيا سليمان عليه السلام په هغى كښى ننووت او دروازى ئى پر ځان پسى وتړلى او لكه چه د دوى عادت وو چى تر څو څو مياشتو پورى به په خلوت كښى د الله تعالىٰ په عبادت كښى مشغول وو بيا په داسى

یو وضعیت د رب العزت په عبادت کښې مشغول شو چې د قومې په حالت پر خپله همسا باندې ئې تکیه لګولې وه کله چې پرښتې د دوی روح هم قبض کړ د دوی مبارک نعش په هم دغه وضعیت ولاړ پاتې ؤ ـ او هیڅوک د دوی پر وفات متحسس نه شول. د دوی د وفات څخه وروسته تر ډیر مدت پورې پیریان په هم هغه شان پخپلو تعمیریه امورو مشغول وو کله چې تعمیرات سم له سلیمانی نقشې سره پای (آخر) ته ورسیدل نو د هغې همسا په بیخ کښې چې دوی د هغه پر موازنه ولاړ وو د لرګی چنجې (وینه) ولګید او هغه ئې وخوړه او دوی ولید نو دلته د دوی وفات پر ګردو (تولو) منکشف شو په دغه سره جناتو ته د دوی د غیبي امورو د پوهیدلو حقیقت هم ورښکاره شو پر پیریانو باندې معتقدو انسانانو ته هم دغه خبره څرګنده (ښکاره) شوه که دغه پیریان پر غیبیه ؤ امورو پوهیدی نو څرنګه به دغه ربړ (زحمت) او تکلیف کښې به بلا موجبه پاتې کیدل او لازم وو چې د سلیمان علیه السلام پر وفات له مطلع کیدلو سره متصله به ئې له کاره لاس اخیست له دې نه دا هم ظاهره شوه چې د شیاطینو او د نورو تسخیر د حضرت سلیمان علیه السلام کسبي کمال نه ؤ بلکه محض د الله تعالیٰ فضل وو چې که اراده ئې فرمایلې وې نو هغه ئې د ده له تابوت سره هم قائم ایښودې شوې کوم انعامات چې پر حضرت سلیمان علیه السلام د ده په ژوندون کښې کړې شوې وو دغه د هغه تکمیل شو چې وروسته د دوی له موت څخه هم تر یوه ضروری حد پورې جاری کیښود شي. او دغه راښوولې شوې دې چه د انبیاوو د شروع کړیو کارو تکمیل الله تعالیٰ په څه تدبیر سره پوره کوی!.

(ربط) تر دې ځای پورې د ځینو منیبانو او شاکرانو بندګانو ذکر وو. وروسته له دې نه د یوه معرض او شکر نه کوونکې قوم (سبإ) ذکر کاوه شي چې د ډیر عیش، رفاهیت او خوشالی او فارغ البالی څخه وروسته د کفر او ناشکرۍ په سزا کښې تباه کړ شو. دغه قوم د یمن ډیر داسې دولتمن او ذی اقتدار قوم ؤ چې تر سلهاوو کلونو پورې ئې په ډیر ښه جاه او جلال پر هغه مملکت کښې حکومت کاوه له هم دغو څخنې یوه هم هغه ملکه (بلقیس) وه چې د هغې د حاضریدلو ذکر د حضرت سلیمان علیه السلام په دربار کښې په خوا له دې نه د (النمل) په سورت کښې تیر شو ـ ښائې چې دلته وروسته له سلیمان علیه السلام د (سبأ) ذکر په هم دغه تناسب سره هم شوی وی.

---

لَقَدْ كَانَ لِسَبَإٍ فِي مَسْكَنِهِمْ آيَةٌ ۖ جَنَّتَانِ عَن يَمِينٍ وَشِمَالٍ ۖ

---

خامخا په تحقیق وه خلقو د سبا ته په ځای د هستوګنې د دوی کښې یوه لویه نښه چې (هغه لویه نښه) دوه باغونه دي له ښي او کیڼ (طرف د مینو د دوی).

---

**تفسیر:** یعنې د باغونو دوه طویلې سلسلې په ښي او کیڼ لورې اوږدې تر څو میلو پورې پرتې

وی که دوی پوهیدلی نو د الله تعالیٰ د رحمت او د قدرت هم دغه نښه د ایمان راوړلو او شکر گزار کیدلو دپاره کافی وه.

كُلُوا مِن رِّزْقِ رَبِّكُمْ وَاشْكُرُوا لَهُ ۚ بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ وَرَبٌّ غَفُورٌ ﴿١٥﴾

(وویلي شو دوی ته) خورئ تاسی له رزق روزئ د رب خپل او شکر وباسئ دغه (الله) ته، (دا) بلده ښار دی ډیر پاکیزه او (دغه رب د تاسی) رب دی ډیر ښونکی (د شکر کوونکیو).

**تفسیر:** گواکی دغه نښی ئی د حال په ژبه سره ویلی چی د خپل رب له دغو درکړیو شویو نعمتونو ښخه متمتع او گټور شئ! او د دغه حقیقی منعم شکریه په ښه شان سره اداء کړئ! د کفر او عصیان په اختیارولو سره مه ناشکره کیږئ! یا لکه چه د ځینو اسلافو قول دی چه د انبیاؤ په ژبه به الله تعالیٰ دغه هدایت دوی ته ورکړی وی وائی چی دیارلس تنه انبیاء د دغه قوم په طرف لیږلی شوی وو ـ که دغه صحیح وی نو د حضرت مسیح ښخه به پخوا دوی راغلی وی او د دوی وارثان به هم وروسته له دوی نه د دغه قوم تر بربادی پوری دوی پوهولی وی والله اعلم. د «ارض القرآن» مصنف د «سبا» د عمارتونو د ذکر په منځ کښی لیکی چی «د دغو عماراتو په سلسله کښی یو شی د اوبو بند هم دی چی هغه ته حجازی عرب «سد» او یمنی عرب «عرم» وایی. په عربستان کښی دایمی بهیدونکی سیند نشته ـ اوبه له غرونو ښخه بهیږی او د شگو په کوریو کښی وچیږی او بی له دغه چی د زراعت او د نورو په درد وخوری ضائع او ابته (خراب) کیږی. د «سبا» واکدارانو په مختلفو مواقعو او ځایونو کښی د غرونو او بیدیاؤ او خوړونو په منځ کښی لوی لوی بندونه جوړ کړی وو چی په هغو کښی به اوبه دریدلی او حسبالضرورت د زراعت په کار ورتلی ـ د «سبا» په مملکت کښی دا شان په سلهاؤ مختلف بندونه ؤ. په دغو گردو (تولو) کښی له تولو ښخه مشهور بند د «سدالمارب» بند وو چی د دوی په دارالسلطنت «مآرب» کښی واقع وو د مآرب د ښار په جنوب کښی په ښی او کیڼ طرف کښی دوه غرونه دی چی په «جبل الابلق» سره مشهور دی د «سبا» کاردارانو د دغو دواړو غرونو په منځ کښی نژدی په سنه ۱۴۰۰ قبل الهجرت کښی دا «سد المارب» تعمیر کړی وو دغه بند نژدی یو سل او پنځوس فیته طویل او پنځوس فیته عریض یو لوی دیوال وو. د دغه بند اکثره برخه اوس نړیدلی ده خو بیا یو ثلث برخه یی لا هم باقی ده. یوه اروپائی سیاح (ارناد) د هغه پر موجوده و حالاتو یو مضمون په «فرنچ ایشیاتک سوسایتی جرنل» کښی لیکلی دی او د هغه موجوده نقشه ئی په خورا (ډیر) عمدگی سره تیاره کړی ده پر دغه دیوال کښی ځای په ځای داسی کتبات او لیکنی دی چی هغه گردی (تولی) لوستلی شوی هم دی د دغه سد په پاسنیو او لاندنیو برخو کښی ډیری زیاتی کړکی هم وی چی حسبالضرورت به مفتوح او

مسدودی کیدی د «سد» په ښی او کینه خوا په مشرق او مغرب کښی دوه لوئی دروازی وی چی د هغو په وسیله به اوبه تقسیمیدی او د ښی او کینی خوا ځمکی پری اوبه کیدی د اوبو رسول په دغه انتظام او ترتیب په دغو شکلنو او ښورو ځمکو کښی په ښی او کیڼ په دواړو جوانبو کښی په دریو سوو مربعو میلو کښی تر سلهاؤ کروهو پوری ونی غنی ـ باغونه ـ ځنګلونه ـ او د جنت په شان مناظر تیار شوی ؤ چی په هغو کښی له هر ډوله (قسمه) میوی ـ دانی او معطری ونی حاصلیدی قرآن الکریم د «جنتان عن یمین و شمال» په ویلو سره د هم دغو باغونو په طرف اشاره فرمائی یونانی مؤرخ (اګاتهرشیډس) چی په ۷٦٦ قبل الهجرت کښی د سبا معاصر ؤ بیان کوی چی سبا د عربو تکه شنه ودانه او خروبه سیمه ده چی په کښی ډیری ونی او بیشماره میوی دانی پیدا کیږی په هغو ځمکو کښی چی د سیند په دواړو جوانبو کښی پرتی دی ډیری ښکلی او ښایسته ونی ولاړی دی د دغه ملک په داخلی برخه کښی د بخوراتو او د دارچینی او د کجورو او د هندی تمرو او د نورو خورا لوړی او ګڼی ونی او لوی ځنګلونه شته او له دغو ونه څخه ډیر زورور او خوندور عطریات او ښی وږمی (بوئی) پورته کیږی د ونو د اقسامو او انواعو د کثرت او تنوع له سبب د دوی د اصنافو او د اجناسو نومونه یادول او د دوی تعریف او پیژندګلوی کول سخت او مشکل دی هغه ښه وږم او معطره هوا چی د دغو ګڼو ځنګلو څخه پورته کیږی هغه د جنت له خوشبوئی او رائحی څخه کمه نه ده او د هغو تعریف په الفاظو سره نشی کیدی هغه اشخاص چی له دغو ځمکو څخه لری له ساحله تیریږی هغوی هم هر کله چی د ساحل له جانبه هوا وچلیږی له دغی خوشبوئی څخه محظوظ او مسروریږی او داسی ښکاری لکه چی ژوندون له اوبو څخه لطف او حظ اخلی او دغه تشبیه هم د ده د لطافت او نزاکت د قوت په مقابل کښی ناقصه ده. (آرتی مید روس) چی د سبا د عهد په آخر کښی اوسیده لیکی چی «د سبا باچا ـ او د ده ایوان په «مآرب» کښی دی چی په یوه له ونو ځنی ډک او د (ښځو) د عیش او عشرت لوړ (اوچت) ځای کښی واقع دی» الغرض د شینوالی شته والی موړتیا خوړوبتیا ـ ودانی ـ هوسائی (آرام) ـ عیش ـ عشرت او د هوا اعتدال په سبب «مآرب» د هم دغه کلام مصداق وو ﴿ بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ وَّرَبٌّ غَفُوْرٌ ﴾ له رب غفور څخه دغه طرف ته اشاره ده چی ته له خپله جانبه شکرګزاره اوسه! که د بشریت په مقتضاء څه نقص او تقصیر پاتی شی نو الله تعالیٰ پر وړوکو وړوکو خبرو دومره سخت نیول نه کوی او په خپلی مهربانی سره ئی معافوی. د ده د نعماؤ شکر «کما کان حقه» د چا له لاسه پوره کیدی شی؟.

فَاَعْرَضُوْا فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ سَيْلَ الْعَرِمِ وَبَدَّلْنٰهُمْ بِجَنَّتَيْهِمْ جَنَّتَيْنِ ذَوَاتَيْ اُكُلٍ خَمْطٍ وَّاَثْلٍ وَّشَيْءٍ مِّنْ سِدْرٍ قَلِيْلٍ ﴿١٦﴾

پس وګرزیدل (له شکره او له دعوته د انبیاو اهل د سبا) پس ومولیږه پر دوی

سیلاو د یوه زورور خوړ او بدل ورکړ مونږ دوی ته په ځای د دوو باغونو د دوی کښې دوه باغونه نور خاوندان د میوو بی مزی ترخو او د ښوره ګزه او یو قدر له بیرو هم خو ډیر لږ

**تفسیر:** یعنی پندونه او نصائح ئی په خپلو غوږونو کښې ونه نیول. او د حقیقی منعم له شکر ایستلو څخه ئی مخ واړوه نو بیا مونږ دوی باندی د اوبو عذاب ولیږه او هغه بند ونړیده او هغه ګرد (تول) باغونه، ځمکی تر خرو اوبو او ختو لاندی ډوب شول او د هغو ښائسته ۇ او خوندورو ـ اعلیٰ ـ نفیسو میوو او ثمراتو په ځای ډیر خراب او ښکته ونی او اغزی او د سوځولو وړ ځنګلونه زرغونه شول. کوم ځای کښې چی راز راز (قسم قسم) انګور (ګور) او عدیم المثال خرما، کجور او د نورو ثمراتو اقسام پیدا کیدل او نعماؤ او د ښکلو انواعو څخه ډک او خروب ـ او په اصنافو د پیداوارو او محاصیلو کښې مملو او ماړوب ۇ اوس ماسواء د هغو بیکاره ونو څخه چی محصولات ئی خراب او میوی ئی ترخی او بی مزی دی او له یو قسم ښوره ګز څخه پرته (علاوه) چی د هغی پانی سپینی دی ـ او یو قدر له بیرو ځنی خو ډیر لږ او نورو بدرنګو او بد خوندو او بدبویو ونو څخه بل هیڅ شی هلته نه لیده کیږی. دغه ځای ته باغ ویل تش دپاره د مشاکلت دی او د دغه لږ بیرو نوری بیکاره ونی د پاتی کیدلو څخه مطلوب تذکر او یادونه ده څو د هغو پخوانیو په زړه پوری شیونو او ودانیو واقعات له افکارو څخه هیر نشی.
دغه واقعه د حضرت مسیح او د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په منځ زمانه کښې واقع شوی ده. د قدیمه و آثارو محققینو په لاس کښې د «ابرهت الاشرم» د زمانی یوه لویه کتیبه د سد العرم د بقیه دیوال څخه لویدلی ده چی په هغه د دغه بند د نړیدو پیښه مذکوره ده مګر دغه غالباً د دغی واقعی څخه د وروستنی زمانی قصه ده چی د هغی ذکر په قرآن کښې مذکور دی والله اعلم.
حضرت شاه صاحب لیکی کله چی الله تعالیٰ اراده وکړه چی پر اهل السبا عذاب او بلا نازله شی نو د بیدیا لوئی ړندی مږی (کور موش) ئی پری مسلطی کړی او دغو د بند په بیخ او تاداو کښې ئی لوی سوری وکینودل چی د هغه په اثر یو ځلی یو لوی سیلاو او څپان تولید شو او هغه بند ئی مات کړ ـ دغه اوبه د عذاب وی نو ځکه پر هره ځمکه چی دریدی هغه به ئی له فصل او کر څخه ایسته ـ وائی چی د دی بند د ماتیدلو یوه کاهن په خوا ویل کړی وو چی د هغه په اثر ډیر خلق له هغه وطن څخه د باندی وتلی ۇ ـ او هغه کسان چی هلته پاتی ۇ هغوی ته د هغو ښو او ښکلیو باغونو په عوض دغه خرابی او لا یعنی ونی او اغزی ورپاتی شول والله تعالیٰ اعلم.

ذٰلِكَ جَزَيۡنٰهُمۡ بِمَا كَفَرُوۡا‌ ؕ وَهَلۡ نُجٰزِىۡۤ اِلَّا الۡكَفُوۡرَ ﴿۱۷﴾

دغه (عذاب) جزاء ورکړه مونږ دوی ته په سبب د هغه چی کافران شوی ۇ، او

آیا جزا ورکوو (یعنی نه ورکوو) مګر نا شکری ته

**تفسیر:** دغسی لویه سزا لویو ناشکرانو ته ورکوله کیږی له کفر څخه بله ناشکری څه ده؟ د «نمل» په سورت کښی تیر شو ﴿ وَجَدْتُّهَا وَقَوْمَهَا يَسْجُدُوْنَ لِلشَّمْسِ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ﴾ جزء ۱۹ (۲ رکوع) ۲٤ آیت ظاهراً دغسی شرک به په دغه قوم کښی وروسته له بلقیس څخه پاتی وی.

وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْقُرَى الَّتِىْ بٰرَكْنَا فِيْهَا قُرًى ظَاهِرَةً وَّقَدَّرْنَا فِيْهَا السَّيْرَ سِيْرُوْا فِيْهَا لَيَالِىَ وَاَيَّامًا اٰمِنِيْنَ ۝١٨

او ګرځولی وو مونږ په منځ د دی (اهل د سبا) او په منځ د کلیو ښارونو هغو کښی چی برکت اچولی وو مونږ په هغه کښی کلی (ښارونه) ښکاره او په اندازه کړی وو مونږ په هغو کښی منازل (د تګ او راتګ) (ومو فرمایل چی) ځی راځی په دغو کلیو (ښارو) کښی د شپی او د ورځی په امان (له هر آفته)

**تفسیر:** برکت والا کلی د شام مملکت دی یعنی د دوی د ملک ځنی د شام تر ملک پوری توله لاره مأمونه او مصونه او ودانه وه د لاری پر دواړو خواو د ودانیو او کلیو سلسله په داسی اندازه او تناسب سره موجوده وه چی متردینو او مسافرانو ته په هر منزل کښی ځای په ځای ماکولات او مشروبات ور رسیدل او د آرامی او هوسائی (راحت) ځایونه ورمیسر کیدل د ودانیو د دغه مقاربت او پرله پسی د یوه څخه وروسته د بل د ژر لیدلو څخه به نی فهم غلطیده او تری توحش ـ هیبت او اندیښنه به ورته نه پیدا کیده او نه د غلو او داړه مارانو څخه ډار او خرخشه ورته لویده ـ ګواکی پر دغو لارو باندی تلل سفر نه ـ بلکه یو راز (قسم) تفریحی سیر او سیاحت ؤ د «ارض القرآن» مصنف لیکی «د سبا» دولت او ثروت ـ اساس یوائحی تجارت ؤ. یمن له یوه جانبه د (هندوستان) د سواحلو په مقابل کښی واقع دی او له بله جانب د (افریقا) د سواحلو په محاذ کښی پروت دی. طلا ـ ډیر قیمت داره احجار ـ مصالح ـ عطریات ـ د هاتی غاښ او نور شیان له حبشی او هندوستان څخه برابر په (یمن) کښی ښکته کیده ـ او له دی ځایه (سبا) ته پر اوښانو او نورو بودګانو باریدل د (بحر الاحمر) پر سواحلو له حجازه تیر شوی شام او مصر ته وړل کیدل. قران مجید دغه لره په امام مبین یعنی ښکاره لاری سره موسومه او د دغه سفر نوم ﴿ رِحْلَةَ الشِّتَآءِ وَالصَّيْفِ ﴾ ـ د ژمی او د ووړی کوچ) ایښی دی چی د قریشو له خوا جاری شوی ؤ. د دغو تجارتی جوپو تګ راتګ له سببه له یمن څخه تر شام پوری د ودانیو یوه لویه سلسله قائمه وه چی په هغو کښی بی له کوم خوف او خطر په ډیر سکون او اطمینان سره

مسافرت کيده يوناني مؤرخ (اراکوستهنس) د ٨١٦ کال قبل الهجرت په احوالاتو کښې داسې بيان کوی چې له «حضرموت» څخه د «سبا» تر ملک پورې د څلويښتو ورځو لاره ده او له «معين» څخه سوداګران تر ايله (عقبه) پورې په اويا ورځو کښې رسيږی.

## فَقَالُوا رَبَّنَا بٰعِدْ بَيْنَ أَسْفَارِنَا

پس وويل دوی ای ربه زموږ لريوالی پيدا کړه په منځ د منازلو (د سفرو) زموږ کښې

**تفسير:** دغسې به ئې د حال په ژبه سره ويلی وی او ممکن دی چې د قال په ژبه سره ئې ويلی وی چې ای الله! په داسې صورت سره په منزل او مسافرت کښې څه مزه او خوند نه وی که منازل لری وی او د لاری په شاؤ خوا کښې ودانی نه وی انسان ته د لوږی او تندی څخه تکليف وررسيده نو هلته په مسافرت کښې لذت او خوند سړی ته حاصليدی. حضرت شاه صاحب ليکی «په آرامی کښې دوی مست او مغرور شول او له ډيری مستی اوس ځان ته تکليف غواړی لکه چې د نورو ملکونو له احوالاتو څخه دوی مطلع کيدل چې هلته په سفر کښې اوبه نه پيدا کيږی، د ودانی او کلی اثر او پته بيخی نه ښکاری هم هغسې ښائی چې موږ هم پخپلو مسافرتو کښې وګورو. دغه لويه ناشکری ده لکه چې بنی اسرائيل له «من» او «سلویٰ» څخه ماړه او د هوګی او پيازو په فکر کښې ولويدل»

## وَظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ فَجَعَلْنٰهُمْ أَحَادِيثَ وَمَزَّقْنٰهُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ

او ظلم وکړ دوی پر ځانونو خپلو (چې راحت ئې بدل کړ په زحمت) پس وګرځول موږ دغه (اهل السبا) قصې افسانې او تار په تار کړل موږ دوی په پوره تار په تار کيدلو.

**تفسير:** يعنې موږ د دوی شيرازه وشلوله او هغوی مو سره تيت او پرک (منتشر) کړل د دوی اکثره خاندان او کورنۍ يو جانب او بل جانب ته کډې وکړې او منتشر شول - او يو ملک او بل ملک ته لاړل د دوی د ودانيو نوم او نښه د غلط حرف په شان بيخی د ځمکې له مخ څخه محو او لری شوه اوس تش د دوی قصې باقی پاتې دی چې خو ئې خلق واوری او تری پند او عبرت واخلی. د دوی عظيم‌الشان تمدن او شان او شکوه ګرد (تول) له خاورو سره ګډوډ شول. د «ارض القرآن» خاوند د دوی د زوال او سقوط توجيه داسې کوی چې «يونانيانو او روميانو په مصر او شام قبضه وکړه او د افريقې او هندوستان تجارت ئې د برې لارې په ځای پر بحری لاره

شروع او منتقل کړ ـ او ټول اموال ئې د بېړیو په وسیله له سرې بحیرې څخه د مصر او شام پر سواحلو کوزول ـ نو د دغه بحرې لارې د سلسلې د قائمیدلو په اثر له یمن څخنې تر شام پورې د برې لارې او د دې د هغو منازلو دوړې ئې پورته کړې ـ او د هغه تولې نوې ودانۍ سپیرې او ویجاړې شوې» د «ارض القرآن» مصنف دغه توجیه د «مولر» له تحریره اخیستې ده. ممکن دې چې د تباهۍ او انتشار یو ظاهرې سبب هم دا وي مګر پر دغه ئې حصرول صحیح نه دې.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴿١٩﴾

بیشکه په دغه «تمزیق د سبا» کښې خامخا لوې دلائل (د عبرت) دې دپاره د هر ښه صبر کوونکې ډیر شکر کوونکې.

**تفسیر:** یعنې د دغو حالاتو له اوریدلو څخه ښائې عقلمن سرې پند او عبرت حاصل کړې! کله چې الله تعالیٰ ارتوالې عیش او عشرت وربه برخه کړ نو د هغه شکریه دې په ښه شان سره اداء کړې! او که څه تکلیف او مصیبت پرې راشي نو د صبر او تحمل لاره دې غوره کړې! او له الله تعالیٰ څخه دې توفیق او مدد وغواړې!

وَلَقَدْ صَدَّقَ عَلَيْهِمْ إِبْلِيسُ ظَنَّهُ فَاتَّبَعُوهُ إِلَّا فَرِيقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٢٠﴾

او خامخا په تحقیق رښتیا وموند پر دوی ابلیس ګمان خپل پس متابعت وکړ دوی تولو د دغه (ابلیس) مګر یوې فرقې (چې هغه فرقه ده) د مؤمنانو

**تفسیر:** په ړومبې ورځ کښې ابلیس په تخمین او اټکل سره ویلې و ﴿لَأَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهُ إِلَّا قَلِيلًا﴾ جزء ١٥ (د اسراء (٧) رکوع ٦٢ آیت ﴿ثُمَّ لَآتِيَنَّهُم مِّن بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ أَيْمَانِهِمْ وَعَن شَمَائِلِهِمْ وَلَا تَجِدُ أَكْثَرَهُمْ شَاكِرِينَ﴾ جزء ٨ (د اعراف ٢ رکوع) ١٧ آیت دغه پاس «من» بعضیه نه دې بلکه بیانیه دې.

وَمَا كَانَ لَهٗ عَلَيْهِمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ اِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ يُّؤْمِنُ بِالْاٰخِرَةِ مِمَّنْ هُوَ مِنْهَا فِيْ شَكٍّ ۭ وَرَبُّكَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ حَفِيْظٌ ﴿٢١﴾

او نه ؤ دغه (ابلیس) ته په دوی څه تسلط مګر خاص دپاره د دی چی معلوم کړو (په علم الشهود) سره هم هغه څوک چی ایمان راوړی په آخرت له هغه چا څخه چی هغه له دی آخرت څخه په شک کښی وی، او رب ستا پر هر څیز باندی ښه ساتونکی دی.

**تفسیر:** یعنی شیطان ته دغسی کوم قوت او قدرت نه ؤ حاصل چه لکړه په لاس واخلی او په زور او جبر سره خلق له سمی لاری څخه منع کړی او وئی ښویوی. هو! لمسول ـ غلول ـ او تیر ایستل کوی ـ او دغومره قدرت ځکه شیطان ته ورکړی شوی دی چی د بندګانو امتحان او ابتلاء هم منظوره وه څو وکتل شی چی کوم یو پر آخرت یقین لری؟ او د الله تعالیٰ په فکر ـ ذکر او یاد کښی دوام کوی؟ او کوم یو په دنیوی لومه کښی نښلی؟ او له خپله انجامه او خاتمی څخه غافله کیږی؟ او له خپله ځانه ناپوه او بیوقوفه جوړوی؟ یا په چم چل او فریب غولیږی د الله تعالیٰ د حکمت اقتضاء هم دغه وه چه په دنیا کښی د انسانانو دپاره د دواړو خواؤ د تللو لاری خلاصی او ارتی وپرانستلی شی لکه چه پخوا له دی نه په څو ځایونو کښی پر دغه موضوع تقریر لیکلی شوی دی داسی نه دی چه (معاذالله) الله پری نه دی خبر ـ او په بی خبری کښی شیطان کوم بنده له لاری څخه بی لاری کوی یا ئی تښتوی ښه پری وپوهیږه چی هر شی د الله تعالیٰ تر محیط نظر لاندی دی، تل تر تله د ګردو (تولو) احوالو او شیونو نظارت او مراقبت کوی. هر چاته چه هومره آزادی او واک (اختیار) ورکړی هغه د ده له عجزه او سفه نه دی بلکه د ده د حکمت او مصلحت په بنا دی.

قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۚ لَا يَمْلِكُوْنَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْاَرْضِ وَمَا لَهُمْ فِيْهِمَا مِنْ شِرْكٍ وَّمَا لَهٗ مِنْهُمْ مِّنْ ظَهِيْرٍ ﴿٢٢﴾ وَلَا تَنْفَعُ الشَّفَاعَةُ عِنْدَهٗٓ اِلَّا لِمَنْ اَذِنَ لَهٗ ۭ

ووایه (ای محمده! دوی ته) چه وبولی تاسی هغه معبودان چه ګمان به کاوه تاسی (په دوی د خدایانو) غیر له الله چه نه لری دوی اختیار په اندازه د

يوی ذری (نه) په آسمانونو کښې او نه په ځمکه کښې او نشته (دغو معبودانو) د دوی ته په دغو (علوياتو او سفلياتو) کښې څه شرکت او نشته دغه (الله) ته له دوی نه هيڅ مددګاره او نه رسوی هيڅ نفع شفاعت سپارښت په نزد د الله کښې مګر (شفاعت) د هغه چا چه اذن ورکړی (الله) هغه ته،

**تفسير:** دغه «زعمتم» په اصل کښې «زعمتموهم آلهة» ؤ ځکه چه «زعمتم» دوه مفعوله غواړی او دلته يو ئی هم نشته بيا مفعول اول چه ضمير عائد دی حذف شو دپاره د دی چه طول د موصول له صلی نه راغلی دی او دی فضله دی او مفعول ثانی چه «آلهة» دی هغه هم حذف شو او په ځای د هغه دوه صفته قائم شول چه هغه ﴿مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَا يَمْلِكُوْنَ﴾ الآية ـ دی» له دی ځايه د مکی معظمی مشرکينو ته خطاب دی چه د هغوی د تنبيه لپاره د «سبا» قصه واوروله شوه يعنی ماسواء الله شخه پر هغو شيانو چی تاسی د خدائی ګمان کوئ نو لږ شانی د کوم ضرورت ـ احتياج او اړتيا (مجبورئ) په وخت دوی وبولئ! تر څو وليد شی چی هغوی تاسی ته څه نفع رسولی شی؟ او څه په کار مو درځی؟ يعنی دغه مسکينان د تاسی څه په کار درځی چی په آسمان او ځمکه کښې د يوی ذری په اندازه هم د مستقل واک او اختيار خاوندان نه دی بلکه بتان خو غير مستقل اختيار هم نه لری نه په اسمان او نه په ځمکه کښې دوی څه شرکت لری، نه الله تعالیٰ د کوم کار په انجام کښې د بل چا امداد او معاونت ته څه ضرورت لری، چی دوی د هغه معين او مددګار وګرځی او څه حقوق ځان ته حاصل کړی د الله تعالیٰ دربار هغه اعلیٰ او ارفع ځای دی چه خورا ډير مقربين هم هلته د دغی خبری طاقت او توان نه لری چه بی د الله تعالیٰ له اذنه او رضاء د چا د شفاعت او سپارښت په نسبت يو حرف هم له خپلی خولی څخه وويستلی شی. د الله تعالیٰ د انبياؤ اولياؤ او د پرښتو شفاعت هم يواځی د هغو کسانو په حق کښې نافع واقع کيدی شی چی د هغو په نسبت د الله تعالیٰ له خوا د شفاعت اذن او حکم ورکړی شوی وی. او ويره د ملائکو او د شافع او د مشفوع او د اهل المحشر به باقی وی.

حَتّٰٓى اِذَا فُزِّعَ عَنْ قُلُوْبِهِمْ قَالُوْا مَاذَا ۙ قَالَ رَبُّكُمْ ؕ قَالُوا الْحَقَّ ۚ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ ﴿٢٣﴾

تر هغه پوری کله چی پورته کړه شی ويره له زړونو د دوی وائی دوی (په خپلو منځو کښې) چی څه (حکم) وفرمايل رب ستاسی؟ نو وائی دوی چی حق ئی (وفرمايل) او هم دغه (الله) ډير پورته او ډير لوی دی.

**تفسير:** دغه ئی د پرښتو حال وفرمايه چه تل د ده په دربار کښې حاضری دی کله چی له پاسه

د الله تعالیٰ حکم نازلیږی نو داسی غږ تری پورته کیږی لکه چی پر صافو او ښویو تیږو (ګټو) کوم لوی ځنځیر په شدت سره راښکودل شی ښائی اتصال او بساطت ته ئی د قرب الی الفهم کولو دپاره دغه تشبیه ورکړی شوی وی. پرښتی له دهشته او خوفه او رعبه سره لړزیږی او په دغه حال کښی چه تسبیح کوونکی وی سر په سجده لویږی ـ کله چی دغه حالت مرفوع شی ـ او زړونه ئی تسکین او آرام ومومی او د ملک العلام کلام نازل شی نو پرښتی یو له بل څخه پوښتنه کوی چی څه حکم صادر شو؟ پاسنی پرښتی ښکتینو پرښتو ته درجه په درجه د هغه حکم نقل اوروی چی د الله تعالیٰ له حکمته سره سم او موافق او لا له پخوا د هغه قاعده او ضابطه ورته معلومه وی او هم هغسی حکم صادر شوی وی. ظاهر دی چه هلته د معقولی او واجبی خبری څخه ماسوا بل څه شی نشی کیدی پس هغه لوی ذات چی د ده د علو او عظمت داسی کیفیت وی څه وخت چی دی حکم صادروی نو مقربین د ده د هیبت او جلال په داسی وضعیت او حال مبتلا کیږی نو هلته به څوک دومره همت وکړی شی چی په خپل سر د بل چا شفاعت ته ودریږی.
**تنبیه:** د دی آیت نور تفسیر هم کړی شوی دی چه د هغه په نسبت حافظ ابن حجر رحمة الله علیه داسی لیکی «**وجمیع ذلک مخالف لهٰذالحدیث الصحیح (الذی فی البخاری)** والاحادیث کثیرة تؤیده «**فتح الباری**».

قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ قُلِ اللّٰهُ ۙ

ووایه (ای محمده! دوی ته) چی څوک رزق درکوی تاسی ته له (جانبه د) آسمانونو او ځمکی ؟ ووایه (ای محمده! د دوی په ځای ته په خپله) چی (خاص رزق راکوی تولو ته) الله.

**تفسیر:** یعنی له اسمانه او له ځمکی څخنی رزق او روزی د وسائلو او د سامانونو تهیه او برابرول یواځی د هم هغه لوی الله په واک (اختیار) او قبضه کښی دی چی پر هغه مشرکین هم اقرار کوی لهٰذا تاسی وفرمایی چی دغه مسلمه خبره خو تاسی هم راسره منئ نو بیا په الوهیت کښی نور شرکاء له کومه شول ؟. او بیا داسی هم ورته ووایه ای محمده! چی

وَاِنَّآ اَوْ اِيَّاكُمْ لَعَلٰى هُدًى اَوْ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۝۲۴

او بیشکه مونږ (چی مؤمنان یو) او تاسی (چی منکران یئ) خامخا پر سمی صافی لاری کښی یو؟ یا په ګمراهی ښکاره کښی یو؟ (وروسته به معلومیږی).

**تفسیر:** یعنی دغه دواړه فرقی خو رښتیا نه وائی (که نه د نقیضینو اجتماع لازمیږی) یقیناً په

دواړو کښې يو دروغجن ـ او بل رښتين دی نو لا سم دی چې غور او دقت وکړی! او رښتيا خبره ومنی! په دغه کښې د هغه ځواب دا دی چه ځينې خلق داسې وائی «خانه! د دغو دواړو فرقو په منځ کښې له قديمه راهيسې هم دغه وضعيت دوام لری نو په دغه کښې د جګړو کولو څه ضرورت دی؟» او په دغه سره ئې دا راوښودل چه يوه فرقه خو هرومرو (خامخا) خطاکاره او بې لارې ده باقی په تعيين نه کولو د هغه کښې يو حکيمانه حسن الخطاب دی يعنې درواخلئ! مونږ له خپله جانبه هيڅ نه وايو تاسو خو په خپله پوهيږئ چې يو جانب هرومرو (خامخا) پر غلط تينګ ولاړ دی دغه پاس دلائل خو مو واوريدل نو اوس تاسې به له خپله ځانه سره فيصله وکړئ چې کومه يوه پر غلطی ولاړه ده؟ ګواکی له مخالف سره په نرمی خبرې کوئ او ورته فرصت او موقع ورکوئ چه په دغه مورد کښې په خپل نفس او ځان کښې غور او دقت وکړی.

---

قُل لَّا تُسْـَٔلُونَ عَمَّآ أَجْرَمْنَا وَلَا نُسْـَٔلُ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٢٥﴾ قُلْ يَجْمَعُ بَيْنَنَا رَبُّنَا ثُمَّ يَفْتَحُ بَيْنَنَا بِالْحَقِّ وَهُوَ الْفَتَّاحُ الْعَلِيمُ ﴿٢٦﴾

---

ووايه (ای محمده! دوی ته) وبه نه پوښتيدلی شی تاسی له هغو بديو چې کړی وی مونږ او (هم داسی) نه به پوښتيدلی کيږو مونږ له هغو بديو چه کوئ ئې تاسی ووايه (ای محمده!) چې جمع به وکړی په منځ زمونږ کښې رب زمونږ بيا حکم (فيصله) به وکړی په منځ زمونږ کښې په حق سره او هم دی دی ښه فيصله کوونکی ښه عالم.

---

**تفسير:** هر يوه ته لازم دی چې د خپل آخرت فکر او انديښنه وکړی! هيڅ يو به د بل د قصور او د غلطی ځواب نه ورکوی که د داسې صافی خبرې له اوريدلو څخه وروسته بيا هم تاسی پر خپل حال د غور او دقت کولو دپاره نه تياريږی نو په ياد ئې ولری چې مونږ پر تاسی د حجت اتمام کړی دی ـ او د حق خبره مو در رسولی ده ـ اوس تاسی به په خپله د خپلو اعمالو ځواب ورکوئ او پر مونږ هيڅ قسم ذمه واری نه ده عائده ـ او نه په دغسی يو حالت کښې به زما او ستاسی په منځ کښې کومه وسيله او واسطه پاتی وی. د الله تعالیٰ د لقاء او رضاء د حصول لپاره هر يوه ته بيل بيل لازم دی چې د خپلو ځانونو فکر او انديښنه وکړی! ـ ځکه چه الله تعالیٰ به ګرد (تول) مخلوقات سره يو ځای او هر يوه ته به بيله بيله برابره سزا او جزاء سم له عدله او انصافه سره ورکوله کيږی.

---

قُلْ أَرُونِىَ الَّذِينَ أَلْحَقْتُم بِهِۦ شُرَكَآءَ

ووايه (اى محمده ! دوى ته) چه راوښيي ماته هغه (معبودان) چي پيوست کړى دى تاسى له دغه (الله) سره شريکان ؟ (په عبادت کښى)

**تفسير:** يعنى لږ خو ئى راوړاندى کړئ! چه دغه کوم يو موجود دى چى د الله تعالىٰ په الوهيت کښى مداخله او مشارکت لرى ؟ چى مونږ ئى هم وګورو چى په هغو کښى څه صلاحيت شته؟ او د کومو اختياراتو خاوندان دى؟ آيا تاسو به مونږ ته د تيږو (ګټو) دغه له خپله ځانه توړلى او تراشلى بتان راوړاندى کوى؟.

كَلَّا ۚ بَلْ هُوَ اللَّهُ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٢٧﴾

نه ده داسى (او هيڅوک لايق د شرکت نه دى له الله سره)، بلکه هم دغه الله دى ښه غالب قوى (په انفاذ د احکامو) ښه حکمت والا (چى هر کار په تدبير او مصلحت سره کوى)

**تفسير:** يعنى له سره به تاسى داسى کوم موجود او هستى نشى راوړاندى کولى. په دغو اوصافو سره موصوف ذات خو يواځى الله تعالىٰ دى چى واحد احد ـ زبردست ـ قادر ـ قاهر ـ غالب او د اعلىٰ درجى حکمت قدرت علم او حکم خاوند دى او ګرد (تول) د هغه په مقابل کښى مغلوب او مقهور دى.

وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً لِلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢٨﴾

او نه ئى ليږلى مونږ ته مګر په دى حال کښى چى جامع ئى خلقو ته زيرى ورکوونکى (د جنت مؤمنانو ته) او ويروونکى (له دوزخ کفارو ته) وليکن اکثر خلق (له کفارو) نه پوهيږى (په فضائلو ستا او په رذائلو خپلو)

**تفسير:** دغه ئى د توحيد سره د رسالت ذکر وکړ ـ يعنى ستاسى فرض او ستاسى له بعثت څخه غرض دا دى چى نه يواځى عرب بلکه د دنيا ګرد (تول) خلق تاسى له نيکيو او بديو څخه مطلع کړى چى دغه تبليغ مو تاسى وکړ هغه کسان چى خپل ځانونو ئى پرى نه دى پوهولى دوى پوهيږى او پوه سړى خو خپله نفع او نقصان سنجوى او هرومرو (خامخا) ستاسى خبرى منى. هو! مګر په دنيا کښى د جاهلانو او ناپوهانو کثرت دى د دوى په ماغزو کښى چيرى د

دی خبری ځای او ګنجائش شته چی د داسی کاری خبری قدر وکړی.

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٢٩﴾

او وائی (کفار له ډیره جهله) کله به وی دغه وعده (د عذاب) که چیری یئ تاسی رښتینی (په دی کښی چی عذاب به راشی نو رائی ولی!).

**تفسیر:** یعنی له هغی ګړئ او ساعت څخه چی تاسی مو درګرده ویروئ هغه به کله رائحی؟ که دغه خبره رښتیا وی نو ژر ئی راوله! او راښکاره ئی کړه!.

قُل لَّكُم مِّيعَادُ يَوْمٍ لَّا تَسْتَأْخِرُونَ عَنْهُ سَاعَةً وَلَا تَسْتَقْدِمُونَ ﴿٣٠﴾

ووایه (ای محمده دوی ته) چی (مقرره) ده تاسی ته وعده د یوی ورځی (په نازلیدو د عذاب) چی نه به وروستی کیږئ له هغی (ورځی) یو ساعت (قدر) او نه پرومبی کیږئ تاسی (تری).

**تفسیر:** یعنی مه وار خطا کیږئ! د هغی ورځی د راتګ وعده چی له تاسی سره شوی ده هغه ضرور راتلونکی ده او کله چی وخت راشی نو د یوی شیبی په اندازه به هم چاته وار فرصت نه ورکوی. نو د دغه ژر غوښتلو او شور او شر نښلولو په ځای د دغی خبری فکر تاسی ته ضروری دی چی د هغه وختی د راتللو څخه په خوا ورته څه تیاری وکړئ!.

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَن نُّؤْمِنَ بِهَٰذَا الْقُرْآنِ وَلَا بِالَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ ۗ

او وائی هغه کسان چی کافران شوی دی له سره به ایمان رانه وړو مونږ په دی قرآن (چی محمد ته راغلی دی) او نه پر هغه کتابونو چی راغلی دی په خوا له دی (قرآنه)،

**تفسیر:** یعنی منکران وائی مونږ نه قرآن منو او نه نور هغه پخوانی کتابونه لکه توریت انجیل زبور چی تاسو ئی آسمانی کتابونه ګڼئ ـ دغه ګرد (تول) سره هم هغه یو دول (قسم) او یو شان خبری کوی ـ د دوی په هر یوه کښی چی وګورئ هم هغه د حساب ـ کتاب ـ قیامت ـ شفاعت ـ ثواب ـ او عقاب او د توحید او رسالت قصی او افسانی دی. حال دا چی بیخی مونږ د دغسی شیانو منونکی نه یو ـ او نه پری یقین او باور لرو (العیاذ بالله).

وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ مَوْقُوفُونَ عِندَ رَبِّهِمْ يَرْجِعُ بَعْضُهُمْ
إِلَىٰ بَعْضٍ ٱلْقَوْلَ

او که ووینی ته (ای محمده په آخرت کښې) کله چې دغه ظالمان ودرول شي په نزد د رب د دوی (دپاره د حساب) چې اړوی به ځینې د دوی له ځینو نورو سره خبره (داسې چې)

**تفسیر:** یعنی هم هغسې چې د مغلوبیت او ناکامۍ په اوقاتو کښې بالعموم داسې پیښې واقع کیږي چې ناکامان د پړ والي او مغلوبۍ اسباب او وسائل یو پر بل اړوي او یو سړی خپل مسولیت پر بل سړي اچوي هم داسې په محشر کښې به کفار یو پر بل خپل بار غورځوي او غواړي چې مجرم او ملزم ئې کړي چې د هغه تفصیل داسې فرمائي

يَقُولُ ٱلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُوا۟ لِلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوا۟ لَوْلَآ أَنتُمْ لَكُنَّا مُؤْمِنِينَ ﴿٣١﴾

وبه وائی هغه (تابعان) چې ضعیف ګڼلي شوي ؤ هغو (متبوعانو) ته چې تکبر به ئې کاوه چې که نه وی تاسی (منع کوونکی مونږ لره له ایمانه) نو خامخا وو به مونږ مؤمنان (نو خامخا وینی یو کار ډیر سختی او دغه محذوف «لو» جواب دی)

**تفسیر:** یعنی هغه کسان چې په دنیا کښې له ښکتو طبقاتو څخنی شمیرلی کیدل او د نورو مشرانو متابعت به ئې کاوه دوی به پر خپلو دغو مشرانو او غټانو الزام اړوی او وائی به چې مونږ ستاسی له لاسه په دغه غم او مصیبت کښې ککړ او اخته شوي یو که ستاسی لمسون او ممانعت نه وی مونږ به ضرور د انبیاؤ خبرو ته غوږ ایښود او په دغه عذاب به نه اخته کیدو.

قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوا۟ لِلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُوٓا۟ أَنَحْنُ صَدَدْنَٰكُمْ عَنِ
ٱلْهُدَىٰ بَعْدَ إِذْ جَآءَكُم ۖ بَلْ كُنتُم مُّجْرِمِينَ ﴿٣٢﴾

وبه وائی هغه (متبوعان) چې تکبر به ئې کاوه دپاره د هغو کسانو چې

عاجزان کړی شوی وو آیا مونږ منع کړی مو وئ تاسی له سمی صافی لاری پس له هغه چی راغلی ؤ. (دغه هدایت) تاسی ته (نه دی داسی) بلکه وئ تاسی په خپله مجرمان (کافران).

**تفسیر:** یعنی کله چی تاسی ته حقه خبره ورسیده او پری وپوهیدئ نو بیا مو هغه ولی ونه منله؟ آیا مونږ په زور او زیادت سره ستاسی زړونه د ایمان او ایقان له قبوله اړولی ؤ ؟ پر تاسی دغه لازم ؤ چی په دغه مورد کښی مو د هیچا خبرو ته غوږ نه کیښوده او هیڅ پروا به مو نه وی کړی او هرومرو (خامخا) به مو حق قبلولی اوس خپله گناه او جرم په نورو ولی غورځوئ؟.

وَقَالَ الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا بَلْ مَكْرُ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ إِذْ تَأْمُرُونَنَا أَن نَّكْفُرَ بِاللَّهِ وَنَجْعَلَ لَهُ أَندَادًا ۚ

او وبه وائی هغه کسان چی عاجزان گڼلی شوی وو هغو (رئیسانو) ته چی تکبر به ئی کاوه بلکه دا فریب (ستاسی ؤ) د شپی او د ورځی کله چی امر به کاوه تاسی مونږ ته (هر وخت داسی ) چی کافران شو مونږ پر الله او پیدا کړو مونږ دغه (الله) ته شریکان،

**تفسیر:** یعنی بیشکه چی تاسی په زوره مونږ نه وی منع کړی مگر د شپی او د ورځی په مکر او فریب او په غولوونکیو تدابیرو سره مو تیر ایستلی او لمسولی او په هر وخت او په هر ځای کښی به ستاسی ښوونه او تلقین مونږ ته هم داسی وو څو مونږ د انبیاؤ الله له ارشاد سره سم الله تعالیٰ په وحدانیت سره ونه منو بلکه ځینی نور مخلوقات د ده شریک او مماثل وگڼو ـ آخر تاسی خو پوهیږئ چی ستاسی دغه د شپی او د ورځی دائمی او متوالی ترغیب او تشویق او لمسونی تر کومی اندازی پوری مونږ له لاری څخه بی لاری او پر مونږ ډیر بد اثرات غورځولی دی.

وَأَسَرُّوا النَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُا الْعَذَابَ ۚ

او پټه به کړی (دغه تابعان او متبوعان یو له بله) پښیمانی خپله کله چی ووینی عذاب.

**تفسیر:** یعنی څه وختی چی دوی له هولناک عذاب سره مخامخ کیږی تابعین او متبوعین دواړه په خپلو زړونو کښی افسوسونه او ارمانونه کوی او هر یو به دغه محسوسوی چی په رښتیا سره

زه مجرم او گناه‌گار یم لیکن له شرمه به دغه کیفیت یو بل ته نه ځرګندوی (ښکاره کوی) او د شدید خوف او اضطراب له امله (وجی) امکان لری چی دوی به هم د وینا قوت او قدرت ونه لری.

وَجَعَلْنَا الْأَغْلٰلَ فِيْٓ اَعْنَاقِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ط

او وبه ګرځوو ځنځیرونه (د اور) په غاړو د هغو کسانو کښی چی کافران شوی دی (تابعان دی که متبوعان).

**تفسیر:** د دوی په غاړو کښی به د فولادو غاړکی او په لاسونو او پښو د دوی کښی به لوی او غټ ځنځیرونه او زولنی لویدلی وی.

هَلْ يُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٣٣﴾

آیا جزا به ورکوله شی دوی ته (بلکه نه ورکوله کیږی) مګر خو د هم دغو (عملونو) چی دوی کول (په دنیا کښی).

**تفسیر:** یعنی هر هغه عمل چی مو کری دی نن هغه د هم دغی سزا په شکل در ځرګندیږی (ښکاره کیږی) نو اوس ورییږئ هغه دانی چی مو کرلی دی.

وَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْ قَرْيَةٍ مِّنْ نَّذِيْرٍ اِلَّا قَالَ مُتْرَفُوْهَآ اِنَّا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿٣٤﴾

او نه وو لیږلی مونږ په هیڅ کلی (او ښار) کښی هیڅوک ویروونکی (له عذابه) مګر ویل به خوشاله (ماړه او مشرانو خلقو) د هغه (قریی) چی بیشکه مونږ په هغه څه چی رالیږلی شوی ئی تاسی په هغه شی کافران (منکران) یو.

**تفسیر:** په دغه سره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته تسلی او اطمینان ورکری شوی دی چی تاسی د معظمی مکی د رؤساو او غټانو د غاړه غړولو او سرکشی څخه مه مغموم او مه خفه کیږئ! په هره زمانه کښی د انبیاؤ الله په مخ کښی هم داسی بد بخت رؤساء او مشران په مخالفت سره دریدلی دی. د دولت او ثروت نشه او د عزت او اقتدار غوښتلو جذبه د انسانانو

سترگی ړندوی او دوی پر دغه باعث کوی چی د هیچا په مقابل دی ښائی غاړه کښینږدی او د کشرانو په مجلس کښی کیناستل ځان ته عیب وگنی نو ځکه د انبیاؤ ړومبی متبعین به عموماً هم دغه مسکینان او ضعیفان ؤ کما ورد فی حدیث هرقل.

وَقَالُوا نَحْنُ أَكْثَرُ أَمْوَالًا وَأَوْلَادًا وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴿٣٥﴾

او ویل به دوی چی مونږ ډیر یو (له تاسی) له جهته د مالونو او د اولاد او نه یو مونږ په عذاب کړی شوی.

**تفسیر:** یعنی معلوم شو چی الله تعالیٰ له مونږ ځنی راضی او خوښ دی که نه دومره مال او اولاد به ئی مونږ ته ولی راکوو؟ کله چی الله له مونږ څخه خوښ وی نو مونږ د هیڅ یو آفت څخه نه ویریږو ته چتی (بیکاره) مونږ له عذابه ډاروی.

قُلْ إِنَّ رَبِّي يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَاءُ وَيَقْدِرُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٦﴾

ووایه (ای محمده دوی ته) چی بیشکه رب ځما فراخوی رزق روزی دپاره د هر هغه چا چی اراده وفرمائی او تنگوی ئی (پر هر هغه چا چی اراده وفرمائی) ولیکن اکثر خلق نه پوهیږی (چی دا استدراج دی).

**تفسیر:** یعنی د رزق وسعت یا ضیقت د الله تعالیٰ د خوښی یا د ناخوښی دلیل له سره نشی کیدی . آیا نه گورئ چی په دنیا کښی څومره بداخلاقان ـ شریران ـ دهریان او ملحدان مزی او چرچی کوی حال دا چی هغو ته هیڅ یو مذهب هم ښه نه وائی. او ډیر متقیان ـ او مخلصان ـ د الله تعالیٰ نیک او خالص بندگان ظاهراً اوری تری بربند دی. نو معلوم شو چی دولت او افلاس ـ د رزق تزئید ـ یا تقلیل د هیچا د محبوب او مقبول توب عند الله دلیل نه دی. دغه معاملات خو پر نورو هغو مصالحو او حکمتونو مبنی دی چی پری یواځی پاک الله پوهیږی مگر اکثر خلق پر دغه نکته نه پوهیږی.

ومن الدلیل علی القضاء وحکمه
بؤس اللبیب وطیب عیش الاحمق

د قضأ قدر پر حکم بوله دغه يو مثال
چې پوهان وی په جنجال ـ ناپوهان وی ډیر خوشال

وَمَآ اَمْوَالُكُمْ وَلَآ اَوْلَادُكُمْ بِالَّتِيْ تُقَرِّبُكُمْ عِنْدَنَا زُلْفٰٓى اِلَّا مَنْ اٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا

او نه دی دغه مالونه ستاسی او نه اولاد ستاسی داسی شيز (خصلت هغه خصلت) چه نژدی کوی تاسی په نزد زمونږ نژدی کول مګر (نژدی کوی له تاسی) هر هغه څوک چې ايمان راوړی او کړی ئی وی ښه (عملونه)

**تفسير:** يعنی د مال او د اولاد کثرت نه د الله تعالیٰ د قرب علامت دی لکه چې په پاس آيت کښې تير شو او نه د الله تعالیٰ د قرب حاصلولو سبب دی. بلکه بالعکس د کفارو په حق کښې د دغو شيانو تزئيد او تکثير د دوی د بعد او د لريوالی سبب ګرځي. هو! که مؤمنان خپل مال او دولت په خيريه ؤ امورو کښې ولګوی يا خپل اولاد ته ښه تعليم او تربيه ورکړی او ښه ئی اهل او صالح وپالی ـ نو دغسی مال او اولاد په يوه درجه د الله تعالیٰ د قرب وسيله ګرځي. په هر حال د الله تعالیٰ په دربار کښې د مال او د اولاد څه پوښتنه نه کيږی بلکه هلته محض د ايمان او د صالح عمل پوښتنه کيږی. **اللّهم ارزقناه و وفقنابه!**

فَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ جَزَآءُ الضِّعْفِ بِمَا عَمِلُوْا وَهُمْ فِى الْغُرُفٰتِ اٰمِنُوْنَ ﴿۳۷﴾

پس دغه (مؤمنان چې دی) شته دوی ته جزاء دوچنده په سبب د هغه (نيکيو) چې کړی دی دوی او دوی به په مانيو (د جنت کښې مطمئن) مأمون وی (له هر آفته)

**تفسير:** يعنی پر يوه نيک کار د هومره اجر او ثواب استحقاق چه لری له هغه څخه به زيات بدل وررسيږی. اقلا لس چنده او که زيات وی تر اوه سوه چنده بلکه که الله تعالیٰ اراده وفرمائی له هغه څخه به هم هومره ډير اجر او ثواب ورپه برخه کوی چې بيحده او بيحسابه وی ﴿وَاللّٰهُ يُضٰعِفُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ﴾ (د البقرة ۳۶ رکوع) دلته له «ضعف» څخه مطلقاً زيادت مراد دی.

وَالَّذِيْنَ يَسْعَوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِنَا مُعٰجِزِيْنَ اُولٰٓئِكَ فِى الْعَذَابِ مُحْضَرُوْنَ ﴿۳۸﴾

او هغه كسان چې سعي كوښښ كوي په (ابطال د) آيتونو زمونږ په دې حال كښې چې عاجز كوونكي وي زمونږ (په زعم خپل) دغه كسان په عذاب (د دوزخ كښې) حاضر كړې شوي به وي.

**تفسير:** يعنى هغه بدبختان چه د الله تعالىٰ د آيتونو ترديد كوى او پر هغو طعنى وهى او د خلقو مخ له هغوى ځنى اړوى او داسى دعوى كوى چه مونږ الله تعالىٰ او د هغه رسول مغلوب او عاجزوو دوى ټول به په عذاب اخته كيږى او د الله تعالىٰ په مخ كښى به حاضر كړى شى او هيڅ يو به له دوى ځنى د الله تعالىٰ له نيولو څخه نه خلاصيږى او نه به چيرى تښتيدى شى.

قُلْ إِنَّ رَبِّي يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَيَقْدِرُ لَهُ ۚ وَمَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ ۖ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ﴿٣٩﴾

ووايه (اى محمده ! دوى ته) بيشكه رب زما فراخوى رزق روزى دپاره د هر هغه چا چې اراده وفرمائى له بندګانو خپلو او تنګوى ئې ورته (چې اراده وفرمائى امتحاناً) او هر هغه څه چې لګوئ ئې تاسي (په لاره د الله كښې) له كوم شي څخه (ډير وي كه لږ) پس هغه (الله) عوض دركوى د هغې او هم دغه (الله) خير غوره د روزى وركوونكيو دى.

**تفسير:** دغه ئې مسلمانانو ته اوروّلى دى هغه وجوه چې تاسى ئې په خيريه و امورو كښى لګوئ د هغو د لګولو په وخت كښى له تنګسى او افلاس څخه مه ويريږئ. له صرف كولو ځنى ستاسى رزق نه كميږى ـ هغه شى چه تاسى ته مقدر او مقرر دى هغه هرومرو (خامخا) دررسيږى ـ الله تعالىٰ په خپل حكمت او مصلحت هر چاته چې د هومره شى د اعطاء اراده وفرمائى وركوى ئې په هغه كښى ستاسى له صرفولو او نه صرفولو څخه هيڅ فرق او توپير (تفاوت) نه واقع كيږى. بلكه په خيريهو امورو كښى د اموالو له لګولو څخه بركت په كښى لويږى، الله تعالىٰ د هغه عوض دركوى ـ اعم له دى چې د مال په صورت وى يا د قناعت يا د قلبى غناء په شكل وى. په آخرت كښى د هغه د بدل درسيدلو خو يو حتمى امر دى. الغرض د الله تعالىٰ په دربار كښى د هيڅ يو شى تقليل او كمى نشته. مسلمانانو ته ښائى چې له الله تعالىٰ سره تل حسن‌الظن ولرى او د الله تعالىٰ د مرضى په مقابل كښى د فقر او فاقى انديښنه په زړه كښى رانه وړى «**ولا تخش من ذى العرش اقلالا**»

**تنبيه:** په آيت كښى ګواكى دى لورى ته هم اشاره كړى شوى ده هم هغسى چې په دنيا كښى د

فقر او غناء او تنگسی او ارتوالی له پلوه د خلقو احوال متفاوت دی په آخرت کښی به هم د ثوابونو او عذابونو د مراتبو په اعتبار هم داسی توپیر (فرق) او تفاوت موجود وی.

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ يَقُولُ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ أَهَٰٓؤُلَآءِ إِيَّاكُمْ كَانُوا۟ يَعْبُدُونَ ﴿٤٠﴾

او (یاده کړه) هغه ورځ چی (الله) تول به کړی دوی گرد (تول) بیا به فرمائی (الله) ملائکو ته آیا دا هغه گمراهان دی چی خاص تاسی ته (بی له الله) ؤ (په دنیا کښی) چی عبادت به ئی کاوه؟.

**تفسیر:** زیاتو مشرکانو به پرښتو ته د الله تعالیٰ لونی ویلی، ډیرو مشرکانو به د دغو پرښتو هیکلونه پخپل اتکل سره جوړ کړی وو او هغو ته به ئی عبادت کاوه بلکه ځینو لیکلی دی چی د اصنامو عبادت ابتداء ملائکو له عبادت څخه شروع شوی دی. او (عمرو بن لحی) دغه قبیح رسم له (شام) څخه (حجاز) ته راوړی دی په هر حال په قیامت کښی د کفارو د اورولو دپاره به له پرښتو څخه داسی سوال فرمائی آیا دغو خلقو به خاص تاسی ته عبادت کاوه؟ ښائی له دی نه به دا مطلب وی چی تاسی خو دوی ته څه نه وو ویلی؟ یا تاسی خو له دوی د دغه عبادت څخه نه ئی خوشال شوی؟ لکه چی له حضرت مسیح علیه السلام څخه به هم داسی سوال کیږی ﴿ءَأَنتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ ٱتَّخِذُونِى وَأُمِّىَ إِلَٰهَيْنِ مِن دُونِ ٱللَّهِ﴾ جزء ۷ (المائدة د (۱٦) رکوع) ۱۱٦ آیت او جزء ۱۸ د فرقان د سورة په (۲) رکوع ۱۷ آیت کښی راغلی دی ﴿ءَأَنتُمْ أَضْلَلْتُمْ عِبَادِى هَٰٓؤُلَآءِ﴾

قَالُوا۟ سُبْحَٰنَكَ أَنتَ وَلِيُّنَا مِن دُونِهِم ۖ بَلْ كَانُوا۟ يَعْبُدُونَ ٱلْجِنَّ ۖ أَكْثَرُهُم بِهِم مُّؤْمِنُونَ ﴿٤١﴾

وبه وائی (پرښتی جواباً) پاکی ده تاته ته ئی مولیٰ (معبود) زمونږ بی له دوی نه (نه ده داسی چی دغه کفار وائی) بلکه وو دوی چی عبادت به ئی کاوه د پیریانو شیطانانو او زیاتره د دوی پر دغو (پیریانو شیاطینو باور کوونکی او) مؤمنان وو (نو منلی به ئی خبری د دوی)

**تفسیر:** یعنی عرض کوی یا الله! ستا ذات له دی نه پاک دی چی په کومه درجه څوک درسره شریک شی العیاذبالله مونږ به ولی داسی خبری کړو؟ یا له هسی واهیاتو حرکاتو څخه به خوښیږو؟ زمونږ رضاء خو ستا د رضاء تابع ده مونږ له دغو مجرمانو سره هیڅ علاقه او واسطه نه لرو. مونږ یواځی خاص ستا فرمان منونکی بندگان او مریان یو خو سره له دی دغو بد بختانو

کله زمونږ عبادت کاوه. دوی په حقیقت کښې زمونږ په نامه د شیاطینو په عبادت کښې مشغول وو ـ فی‌الحقیقت د دوی عقیدتمنی او اخلاص له شیاطینو سره اختصاص لری. شیاطین دوی خپل طرف ته کش کاږی او د ضلالت په لار ئی بالاستمرار بولی. دوی دائماً د شیاطینو په تعقیب روان دی. اګر که ظاهراً دوی د پرښتو یا د کوم ولی نوم اخلی مګر په واقع کښې پرته (علاوه) له شیطان څخه بل څوک دوی نه منی بلکه ځینی د دوی په علانیه سره د هم دغه شیطان په بندګی کښې لګیا دی. لکه چی پخوا له دی نه د «الانعام» د سورت (۱۲) رکوع زمونږ د دغه تفسیر دغه موضوع په تفصیل سره لیکلی ده.

فَالْيَوْمَ لَا يَمْلِكُ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ نَّفْعًا وَّلَا ضَرًّا ۭ

(نو الله فرمائی) پس نن ورځ نه لری اختیار ځینی ستاسی (معبودان) دپاره د ځینو نورو (عابدانو) نه د نفعی او نه د ضرر.

**تفسیر:** یعنی نن د عابدانو او د معبودانو عجز او ناتوانی واضحه شوه، چی هیڅ یو د یوی ذری په اندازه هیچا ته څه ګټه (فائده) او تاوان نشی رسولی د دوی پر هغو معبودانو چی مغرور ؤ او هغوی ئی د خپلو ځانونو دپاره وسیله او شافع ګرځولی ؤ نن ورځ هغه معبودان له دوی څخنی خپله بیزاری ښکاره کوی.

وَنَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ذُوْقُوْا عَذَابَ النَّارِ الَّتِيْ كُنْتُمْ بِهَا
تُكَذِّبُوْنَ ﴿٤٢﴾ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ قَالُوْا مَا هٰذَآ
اِلَّا رَجُلٌ يُّرِيْدُ اَنْ يَّصُدَّكُمْ عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ اٰبَآؤُكُمْ

او وبه وایو مونږ دپاره د هغو کافرانو چی ظلم ئی کړی دی وڅکئ تاسی عذاب د اور هغه چی وئ تاسی چی د دی (اور) تکذیب به مو کاوه (په دنیا کښی) او کله چی ولوستلی شی پر دوی آیتونه زمونږ په دی حال کښی چی واضح دی نو وائی نه دی دغه (محمد) مګر یو داسی سړی دی چی اراده لری د دی چی منع کړی تاسی له هغه شی څخه چی وو (داسی) چی عبادت به کاوه پلرونو ستاسی،

**تفسير:** دغسې به دوی د رسول کریم صلی الله علیه وسلم په نسبت په خپلو منځو سره ویل چې دغه سړی خو نه رسول او نه نبی دی او فقط هم دغومره مقصد لری چې مونږ زمونږ د پلرونو او نیکه ګانو له هغه دود (رواج) او دستور او طریقې څخه جدا او بیل کړی چې له قدیمه راهیسې مونږ ته پاتې دی او مونږ ئې حق ګڼو او مونږ خپل دین او طریقې ته کش کوی او په دغه وسیله سره خپل ځان حاکم او متبوع او مونږ محکوم او تابع وګرځوی. ګواکې دی یواځې خپل حکومت او ریاست غواړی (العیاذ بالله).

وَقَالُوا مَا هٰذَآ اِلَّآ اِفۡكٌ مُّفۡتَرًى ۭ

او وائی دغه (منکران) چې نه دی دغه (قرآن) مګر یو دروغ دی له خپله ځانه جوړ کړی.

**تفسير:** یعنی دغه چیری قرآن دی (العیاذ بالله) بلکه د څو دروغو خبرو مجموعه دی چې د هغه نسبت الله تعالیٰ ته کاوه شی.

وَقَالَ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا لِلۡحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمۡ اِنۡ هٰذَآ اِلَّا سِحۡرٌ مُّبِيۡنٌ ﴿۴۳﴾

او وائی هغه (منکران د مکې) چې کافران شوی دی حق (قرآن ـ اسلام ـ نبوت) ته کله چې راغی دوی ته نه دی دغه مګر خو دی سحر کوډی ښکاره

**تفسير:** یعنی دغه د نبوت دعوی چې د هغه د څو معجزو او خوارقو ښوونه هم کړی شوی ده یا د اسلام دین چې په خپل نزول سره ئې د میره (خاوند) او ښځې او زوی او پلار په منځ کښې بیلتون او تفرقه اچولې ده یا قرآن چې د هغه له فوق العاده تأثیره د خلقو په زړونو کښې فوق العاده اثرات او انفعالات پیدا کیږی د صریح جادو او ښکاره کوډو او سحر څخه ماسواء بل شی نه دی. (العیاذ بالله).

وَمَآ اٰتَيۡنٰهُمۡ مِّنۡ كُتُبٍ يَّدۡرُسُوۡنَهَا وَمَآ اَرۡسَلۡنَآ اِلَيۡهِمۡ قَبۡلَكَ مِنۡ نَّذِيۡرٍ ؕ ﴿۴۴﴾

حال دا چې نه دی ورکړی مونږ دوی ته له کتابونو (منزله ؤ څخه) چې لولی دوی هغه (کتابونه) او نه وو لیږلی مونږ دوی ته پخوا له تانه کوم ویروونکی (له جحیمه)

**تفسیر:** یعنی محض امی وو ـ نه کوم سماوی کتاب د دوی په لاس کښې وو ـ نه په دومره اوږد مدت کښې کوم نبی په دوی کښې مبعوث شوی وو. الله تعالیٰ په دوی کښې داسې عظیم‌الشان رسول مبعوث او داسې جلیل القدر قرآن ئې ورولیږه چې دواړه ئې عدیم النظیر او بیمثاله دی. نو پر دوی لازم وو چې دوی به دغه نعمت غنیمت ګڼله! او د الله تعالیٰ د دغه انعام او احسان به ئې زیات قدر کاوه! خصوصاً چې دوی به پخپله په خوا له دی نه داسې ویل «که په مونږ کښې کوم نبی مبعوث شوی وی یا پر مونږ کوم آسمانی کتاب نازلیدی نو مونږ به هغه مانه او په اطاعت کښې به مو له نورو څخه زیاته جلتی او مسارعت کاوه» اوس چې هغه مطلوب مقصود وررسیدلی دی نو دوی د هغه په مقابل کښې استکبار او انکار کوی. یا ئې دا مطلب چې مونږ دوی ته هیڅ یو کتاب او هادی داسې نه دی لیږلی چې د ده د تعلیم او ښوونې څخه ئې مخالف کومه ښوونه او تعلیم کړی وی نو بیا د کوم عقلی او نقلی دلیل په اساس دغه خلق د رسول مخالفت کوی؟.

---

وَكَذَّبَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَمَا بَلَغُوا مِعْشَارَ مَا آتَيْنَاهُمْ فَكَذَّبُوا رُسُلِي ۖ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٤٥﴾

---

او تکذیب کړی وو (د انبیاؤ هم داسې) هغو کسانو چې په خوا ؤ له دوی حال دا چې نه دی رسیدلی (دغه کفار د مکې) لسمې برخې د هغه شی ته چې ورکړی مو وو هغوی ته (له قوت او قدرت) پس تکذیب وکړ (هغو پخوانیو) د رسولانو زما، پس څرنګه ؤ انکار زما (په عذابولو د هغو).

---

**تفسیر:** یعنی هم هغسې اوږده عمرونه ـ جسمانی قوتونه ـ مال ـ دولت عیش ـ عشرت چې هغوی ته ورکړی شوی وو د هغه عشرالعشیر هم تاسې ته نه دی درکړی شوی. نو هر کله چې هغوی له خپلو انبیاؤ سره مخالفت او د هغوی تکذیب ته ودریدل ښه وګورئ چې د هغوی آخره خاتمه څرنګه شوه؟ او د هغوی ګرد (تول) ساز او سامان څنګه ابته (خراب) او بیکاره پاتې شو؟ او د الله تعالیٰ منزله عذاب د یوی شیبې له مخې هم معطل نه شو او نه ئې چا مخه ونیوی شوه نو بیا تاسې پر څه مغرور او د څه دپاره دومره لوئی او ځان منمی (غرور) کوی؟ آیا په دی نه پوهیږئ چې له دغسې ورځ څخه هم داسې شری اوبدلی کیږی؟ او کوچنی سری ته دغسې لویه خبره نه ده په کار.

---

قُلْ إِنَّمَا أَعِظُكُم بِوَاحِدَةٍ ۖ أَن تَقُومُوا لِلَّهِ مَثْنَىٰ وَفُرَادَىٰ ثُمَّ

تَتَفَكَّرُوا ۗ مَا بِصَاحِبِكُم مِّن جِنَّةٍ ۚ إِنْ هُوَ إِلَّا نَذِيرٌ لَّكُم بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ ﴿٤٦﴾

ووایه (ای محمده! منکرینو ته) بیشکه هم دا خبره ده چه پند درکوم تاسی ته په یوی خبری سره چی ودریږئ تاسی خاص الله ته دوه دوه او یو یو بیا ښه فکر (او غور) وکړئ چه نشته په دغه ملګری ستاسی کښی هیڅ لیونتوب نه دی دغه (محمد) مګر ویروونکی دی تاسی ته په مخ کښی د عذاب سخت (د قیامت).

**تفسیر:** یعنی تعصب او عناد پریږدئ! په انصاف او اخلاص سره د پاک الله په نامه سم ودریږئ او څو څو تنه سره یو ځای شئ! او پخپلو منځو کښی سره مباحثه مرکه او مشوره او جرګه وکړئ! او بیواځی له خپلو ځانونو سره هم بیل کینئ او ښه فکر ـ دقت او غور وکړئ! چه ستاسی دغه رفیق محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم چه له څلویښتو کلونو څخه ډیر ستاسی تر نظر لاندی حیات او ژوندون کوی او تاسی دغه د ګردو (تولو) حالاتو او له ذری ذری خصوصیاتو څخه ئی د طفولیت څخه تر کهولت پوری کامل خبردار یئ ـ او د ده پر امانت ـ دیانت ـ صداقت ـ عفاف او پوه تل ترتله قائلان یئ او ښه پوهیږئ چه دی هیڅکله په هیڅ یوه معامله کښی په نفسانیت ـ اغراض او نورو بدو خبرو او اخلاقو ملزم او مشبوه نه دی ګرځیدلی نو آیا تاسی په واقعی ډول (طریقه) سره اوس داسی اتکل او ګمان پری کولی شئ چه دی (العیاذبالله) بی له کومو موجبه ؤ اسبابو یو ناڅاپه لیونی شوی دی؟ او بی سببه ئی ځینی خلق له خپله ځانه سره دښمنان او مخالفان ګرځولی دی؟ آیا کوم یو لیونی داسی د حکمت او مصلحت خبری کولی شی؟ یا کوم مجنون په دغه شان د خپل قوم خیر غواړی؟ او د دوی د دنیوی او اخروی فلاح او ترقی دغسی زورور دستورالعمل وروراندی کولی شی؟ دی ستاسی د مستقبل له ډیرو مهلکو خطراتو او شدیدو آفاتو څخه خبروی څو مو ځانونو تری وژغورئ (وساتی)! او د نورو پخوانیو اقوامو تواریخ در آوروی ـ او په دلائلو او شواهدو سره تاسی ته د خیر او شر لاری دربښیی ـ چه دغه کارونه د هیڅ یوه لیونی له لاسه نه دی پوره بلکه دغه د هغو اولوالعزمو انبیاؤ له اعمالو څخه دی چی هغوی ته تل ترتله احمقانو او شریرانو د لیونیانو خطاب کاوه.

قُلْ مَا سَأَلْتُكُم مِّنْ أَجْرٍ فَهُوَ لَكُمْ ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللَّهِ ۖ

ووایه (ای محمده! دوی ته) هر هغه څه چی وغوښتل ما له تاسی له اجرته (په

دغه انذار) پس هغه دی هم ستاسی وی. نه دی اجر زما مگر پر الله دی.

**تفسیر:** یعنی زه د خپل محنت او زیار(کوشش) څه صله له تاسی څخه نه غواړم که ستاسی په خیال کښی داسی راغلی وی چه زه به له تاسی څخنی څه معاوضه غواړم نو هغه ټول تاسی له خپله ځانه سره وساتئ! بیخی هغه ته څه ضرورت نه لرم. زما صله خو د الله تعالیٰ په دربار کښی ده. هغه شی چه زه ئی له تاسی څخه غواړم یعنی ایمان او اسلام هغه یواځی ستاسی د فائدی او گټی دپاره دی. له دی نه په دغه دعوت او تبلیغ کښی زما څه غرض او مقصد نشته.

وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴿٤٧﴾

او هم دغه (الله) پر هر شی باندی ښه شاهد (خبردار دی).

**تفسیر:** یعنی زما رښتیا او صداقت او نیت الله تعالیٰ ته معلوم او ښکاره دی.

قُلْ إِنَّ رَبِّي يَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَّامُ الْغُيُوبِ ﴿٤٨﴾

ووایه (ای محمده! دوی ته) بیشکه رب زما ویشتل کوی (رالیږی) حق (دین) ښه خبردار دی پر ټولو پټو اشیاؤ هم.

**تفسیر:** یعنی له پاسه وحی نازلیږی ـ او د دین باران اوری دغه موقع ویریا له له لاسه مه ورکوئ! او تری ښه گټه (نفعه) او فائده واخلئ! په هغه زور او قوت سره چه پاک الله د باطل په سر ویشتل کوی او لری ئی غورځوی له هغه څخه اندازه وکړئ چه وروسته له دی نه به باطل چیری ودریدی شی؟ ضرور دی چه باطل محو او په سوړو کښی ننوځی او په ټولو آفاقو کښی به د حق دین غږ دیر پورته شی. هغه علام الغیوب پخپل علم او پوهی سره موافق په دیر مناسب وخت او عین الموقع کښی د باطل د سر د تکولو او لتاړولو دپاره حق نازل کړ ـ ﴿بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ فَيَدْمَغُهُ فَإِذَا هُوَ زَاهِقٌ﴾

قُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيدُ ﴿٤٩﴾

ووایه ای محمده! دوی ته) راغی حق (قرآن ـ اسلام) او نشی پیدا کولی باطل (معبودان هیڅ شی) او نه ئی بیا له سره ژوندی راپاڅولی شی.

**تفسیر:** یعنی حق دین راورسید هغه زور او قوت له سره منع کیدونکی نه دی او حتماً او جزماً غالب او مظفریږی او باطل لاندی او ښکته کوی. دروغ کله د رښتیا په مقابل کښی چلیدی شی؟ او باطل څرنګه د حق په مقابل کښی راتلی شی؟ هغه اوس نه د دریدلو قوت او توان لری او نه د تښتیدلو او داسی ئی وګڼئ چی لکه له منځه ورک او تری تم شوی وی. دغه د «جاء الحق» آیت د معظمی مکی د فتحی په ورځ د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر مبارکه ژبه جاری وو.

قُلْ إِنْ ضَلَلْتُ فَإِنَّمَآ أَضِلُّ عَلَىٰ نَفْسِي ۖ وَإِنِ اهْتَدَيْتُ فَبِمَا يُوحِيٓ إِلَيَّ رَبِّيٓ ۚ إِنَّهُۥ سَمِيعٌ قَرِيبٌ ﴿٥٠﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) که چیری وښوئیدم زه (له سمی لاری په زعم ستاسی) پس بیشکه هم دا خبره ده چه وبه ښوئیږم په (ضرر د) ځان خپل (او زما نقص دی) او که سمه لاره می ومونده نو په سبب د دی به وی چه وحی کوی ماته رب زما بیشکه هم هغه (الله) ښه اوریدونکی دی ډیر رانژدی دی.

**تفسیر:** یعنی که ما دغه نوی دود (رواج) او دستور له خپله ځانه درولی وی نو تر څو ورځو پوری به وچلیږی؟ په دغه کښی بالاخر ماته نقصان راپیښیږی ـ دنیوی بغض او عداوت به ځان ته ګټم ـ خواری ـ زحمت ـ او ذلت به پر ځان اخلم اخروی رسوائی به پر ځان ګالم (برداشت کوم) (العیاذ بالله) لیکن که زه پر سمه لاره یم لکه چه په واقع سره هم په سمه صافه لاره روان یم نو ښه وپوهیږئ چه دغه ګرد (تول) د الله تعالیٰ تائید او امداد ـ او د آسمانی وحی مرسته (مدد) ـ برکت او هدایت دی چه هیڅکله او هیچیری به زما ملګرتوب نه خوشی کوی او تل ترتله به له ما سره وی. زما پاک الله هر شی اوری، او هغه بیخی رانژدی دی. هغه به همیشه له ما سره الطاف او امداد فرمائی او خپل دغه پیغام هرومرو (خامخا) ګردی (تولی) دنیا ته رسوی او پر تولو مخلوقاتو ئی ظاهر او څرګندوی (ښکاره وی) اعم له دی نه چه تاسو ئی ومنئ او که ئی ونه منئ.

وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذْ فَزِعُوا فَلَا فَوْتَ وَأُخِذُوا مِن مَّكَانٍ قَرِيبٍ ﴿٥١﴾

او که ووینی ته کله چه وویریږی دوی (عندالنزع) پس نه به خلاصیږی په تیښته (له عذابه زمونږ) او وبه نیول شی دوی له ځایه نژدی (له ځمکی قبر ته یا له موقفه اور ته).

**تفسير:** يعني كفار خو دلته خپله لوئي، تکبر او غرور ښکار کوی مگر هغه وقت به د ليدلو وړ (لائق) او قابل وی چه دغه خلق د محشر ويروونکی مناظر او لړزوونکی مظاهر وگوری او سخت وويريږی او د تښتيدلو په فکر کښی ولويږی، مگر د تيښتی لوری تری ورک وی او هيچری به ونشی خوځيدلی - کله چه د دوی د نيولو او په اور کښی د غورځولو حکم صادر شی نو دوی بی له لټولو او دغی خوا او هغی خوا کتلو څخه سم د لاسه هم هغلته پيدا کيږی بلکه په نهايت آسانی سره علی‌الفور د حکم د اصدار سره متصل او جوخت نيولی کيږی او د خپلو اعمالو په سزا (هيداد) اخته کيږی.

وَّقَالُوْٓا اٰمَنَّا بِهٖ ۚ وَاَنّٰى لَهُمُ التَّنَاوُشُ مِنْ مَّكَانٍ بَعِيْدٍ ۚ ﴿٥٢﴾

او وبه وائی (دا کفار) ايمان مو راوړی دی پر دغه (الله) او له کومه به وی دوی ته نيول (د ايمان يا بيرته گرځيدل دنيا ته) له ځايه لری (چه آخرت دی).

**تفسير:** يعني په دغه وخت کښی به وائی چه اوس مو باور د رسول الله پر خبرو راغی - او اوس ايمان راوړو حال دا چه د اوس ايمان به څرنگه وی؟ هغه وخت او موقع ډيره لری لاړه چه ايمان راوړل به مفيد او نافع او د نجات وسيله واقع کيده - اوس د دوی لاس تر دومره لری ځای پوری چيری رسيدی شی؟ چه له هغه ځايه د خپل ځان دپاره ايمان راوړی - مطلب ئی دا دی چه مقبول او منجی ايمان هغه دی چه پخوا له مرگه په هم دغی دنيا کښی د انسان په برخه شی. په اخرت کښی کله چی گرد (تول) احوال گرد (تول) سری پخپلو سترگو سره گوری نو هلته گرد (تول) متيقن کيږی. نو هلته به د ايمان راوړلو څه فائده وی؟

وَقَدْ كَفَرُوْا بِهٖ مِنْ قَبْلُ ۚ وَيَقْذِفُوْنَ بِالْغَيْبِ مِنْ مَّكَانٍ بَعِيْدٍ ﴿٥٣﴾

او په تحقيق کافران شوی وو په الله پخوا له دی نه (په دنيا کښی) او ويشتل به کول دوی په غيب له ځايه لری (د حق - صدق او د صواب پر امورو د معاد).

**تفسير:** يعني پخوا له دی نه چه د ايمان راوړلو وخت وو تاسی پر کفر او انکار ټينگ ولاړ وئ او هم داسی په خپل خيال او اټکل سره مو نښی، ويشتلی د دنيا په ژوندون کښی به مو تل بی تحقيقه خبری کولی - او رښتيا او محققی خبری به مو هيڅ نه منلی اوس د افسوس او ارمان

 څخه هيڅ شي په لاس نه درځي.

وَحِيلَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَا يَشْتَهُونَ

او پرده (جدائی) به واچولی شي په منځ د دوی او په منځ د هغه شی چه ارمان ئی کوی دوی (لکه ايمان او اعاده الی الدنيا).

**تفسير:** يعنی دهغو شيانو په نسبت چه دوی ئی هيله او ارمان لری مثلاً مقبول ايمان يا نجات يا د دنيا په لوری بيرته ورتگ ـ دنيوی لذائذ، عيش او آرام د دغو شيانو او د کفارو په منځ کښی به سخت سد او مانع وی چه د هغه لامله (له وجی) به دوی له سره تر هغه پوری نشی رسيدی.

كَمَا فُعِلَ بِأَشْيَاعِهِم مِّن قَبْلُ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا فِي شَكٍّ مُّرِيبٍ ﴿٥٤﴾

لکه چه کړی شوی وو (دا کار) له سيالانو د دوی سره پخوا له دی نه، بيشکه هغوی وو په داسی شک کښی چه ډير تردد اچوونکی وو (خلقو ته).

**تفسير:** يعنی ړومبی له دی نه له هغو مخلوقاتو سره چی د هم دوی په وضعيت او هيئت تير شوی دی کومه معامله چی کړی شوی ده له دوی سره هم هغه معامله وکړه شوه ځکه چی هغو خلقو به هم داسی مهملی او بی ځايه شبهی کولی او په داسی بی‌موردو شکوکو او ترديداتو کښی اخته وو چی دوی ئی له سره مطمئن او په آرام نه وو پری ايښی.

**تمت سورة سبأ بفضل الله تعالىٰ ومنه و كرمه وله الحمد.**

سورة فاطر مكية وهى خمس و اربعون آية وخمس ركوعات رقمها (٣٥)
تسلسلهاحسب النزول (٤٣) نزلت بعد سورة الفرقان
د فاطر سورت مكى دى (٤٥) آيتونه او (٥) ركوع لرى په تلاوت كښى (٣٥)
او په نزول كښى (٤٣) سورت دى ـ وروسته د (الفرقان) له سورت څخه نازل شوى دى.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

(شروع) كوم، په نامه د الله چه ډير زيات مهربان پوره رحم لرونكى دى

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

توله ثناء صفت خاص (هغه) الله ته دى چې بې له نمونې څخه پيدا كوونكى دى د آسمانونو او د ځمكې

**تفسير:** يعنى آسمان او ځمكه ئې ابتداء له عدم څخه وجود ته راوړه ـ حال دا چه له پخوا څخه د دغو علوياتو او سفلياتو كومه نمونه يا د تخليق قانون نه ؤ موجود.

جَاعِلِ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا

ګرځوونكى د پرښتو دى رسولان.

**تفسير:** يعنى ځينى پرښتى انبياؤ ته د الله تعالىٰ پيغام رسوى او ځينى نورى د نورو جسمانى او روحانى نظام پر تدابيرو او تشكيلاتو مامورانى دى. ﴿ فَالْمُدَبِّرٰتِ اَمْرًا ﴾

اُولِيْٓ اَجْنِحَةٍ مَّثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ

(هسى ملائكى) چې خاوندانى د وزرو (متو) دوو دوو او دريو دريو او څلورو څلورو دى

**تفسير:** يعنى د ځينو پرښتو دوه دوه متى (يا وزرونه) او د ځينو درى درى او د ځينو څلور وى. د دغو متو او وزرو كيفيت يوازې پاک الله ته معلوم دى يا هر هغه څوک چې ليدلى ئې وى څه رابنوولى شى.

يَزِيدُ فِي الْخَلْقِ مَا يَشَاءُ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ①

زياتوی (الله) په پيدايښت کښې هومره چې اراده وفرمائی (د هغو) بيشکه چې الله پر هر شی باندی (چې اراده وفرمائی) ښه قادر دی (چه ځينی ئی دغسی تزئيد او تخليق دی)

**تفسير:** يعنی الله تعالیٰ په هر مخلوق کښې هر هغه عضو او صفت چې اراده وفرمائی سم له خپله حکمته سره زياتوی پرښتو ته دوه دوه يا دری دری يا څلور څلور متی (وزرونه) هم هغه ورپيدا کړی دی که اراده وفرمائی نو ځينو پرښتو ته له څلورو څخه زيات هم ورکوی. لکه چې په حديث کښې راغلی دی چې حضرت جبريل عليه السلام شپږ سوه متونه يا وزرونه لری او له ﴿ جَاعِلِ الْمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلًا ﴾ څخه داسی ونه ګڼله شی چه ګوندی الله تعالیٰ دغو وسائلو ته څه ضرورت او احتياج لری! پاک الله دغسی وسائطو ته بيخی څه اړتيا (احتياج) او ضرورت نه لری او بالذات دی پر هر څيز باندی ښه قادر او مقتدر دی. ولی محض د حکمت او مصلحت دپاره ئی د دغو اسبابو او وسائطو سلسله قائمه کړی ده.

مَا يَفْتَحِ اللَّهُ لِلنَّاسِ مِن رَّحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا ۖ

هر هغه شی چې پرانيځی الله دپاره د خلقو له رحمت خپل (لکه صحت وسعت) پس نشته هيڅوک بندوونکی د هغه،

**تفسير:** رحمت جسمانی وی لکه باران روزی او نور - يا روحانی وی لکه انزال د کتابونو او ارسال د رسولانو الغرض هر کله چه الله تعالیٰ پر خلقو د خپل رحمت ورونه وپرانيځی نو څوک ئی ترلی شی؟.

وَمَا يُمْسِكْ فَلَا مُرْسِلَ لَهُ مِن بَعْدِهِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ②

او هر هغه شی چې بند کړی (له عطاء خپلی) پس نشته ليږونکی د هغه (هيڅوک) پس له بندولو د الله او هم دی دی ښه غالب قوی (په انفاذ د احکامو) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوی).

**تفسير:** يعنی سم له خپله بالغه حکمته سره د هر شی د کولو او په وجود راوړلو اراده چې

وفرمائی علی‌الفور ئی کوی او داسی قوی مقتدر ـ غالب او زبردست ذات دی چی هیڅوک د ده د ارادی مخه نشی نیولی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡۚ هَلۡ مِنۡ خَٰلِقٍ غَيۡرُ ٱللَّهِ يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ فَأَنَّىٰ تُؤۡفَكُونَ ﴿٣﴾

ای خلقو! یاد کړئ نعمت احسان د الله پر تاسی (چی حیات او روزی او نور ئی درکړی دی) آیا شته بل کوم پیدا کوونکی بی له الله (بلکه نشته) هم دغه (الله) روزی دررسوی تاسی ته له (طرفه) د اسمانه (په سبب د باران) او( له محصولاتو د) ځمکی (په سبب د زرغونولو) نشته لایق د عبادت بل هیڅوک مگر هم دی دی پس له کوم جهته گرځولی کیږئ ( له توحیده شرک ته).

**تفسیر:** یعنی تاسی دغه ټول سره منئ چی پیدا کول او د روزی د وسائلو او اسبابو برابرول ژوندی ساتل او نور گرد (ټول) د الله تعالیٰ په قبضه او اختیار کښی دی نو بیا د معبودیت استحقاق بل شی ته له کومه پیدا شو؟ هر هغه ذات چه حقیقی خالق او رازق دی واقعی معبود او لوی الله هم هغه دی.

وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدۡ كُذِّبَتۡ رُسُلٌ مِّن قَبۡلِكَۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ﴿٤﴾

او که دروغجن وشمیری (دغه کفار ای محمده!) تا پس په تحقیق دروغجن شمیرلی شوی وو ډیر رسولان پخوا له تانه (نو ته هم صبر کوه په شان د هغو) او خاص الله ته بیرته گرځولی شی ټول کارونه (په آخرت کښی).

**تفسیر:** یعنی سره له دومره پوهولو او د حجت د تمامولو بیا هم دغه خلق تاسی دروغجنوی . نو تاسی په دغه سره مه غمجن کیږئ! ځکه له نورو پخوانیو انبیاؤ سره هم داسی رویه او سلوک کړی شوی دی. دا کومه نوی خبره نه ده متعصبینو او معاندینو هیڅکله له خپله ضده او عناده لاس نه دی اخیستی. د دغسی خلقو معامله پاک الله ته وسپارئ! کله چه دوی په آخرت کښی الله تعالیٰ ته بوتلل شی نو الله تعالیٰ به د دغو گردو (ټولو) جگړو فیصله صادروی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞۖ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِٱللَّهِ ٱلۡغَرُورُ ٥ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ لَكُمۡ عَدُوّٞ فَٱتَّخِذُوهُ عَدُوًّاۚ إِنَّمَا يَدۡعُواْ حِزۡبَهُۥ لِيَكُونُواْ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلسَّعِيرِ ٦

ای خلقو بیشکه وعده د الله حقه ده (چه قیامت حساب کتاب جزا شته) پس خبردار چی نه دی کړی غره نه دی تیر باسی تاسی دغه ژوندون لړ خسیس او نه دی غره کړی (تیر باسی) تاسی په (کرم د) الله غره کوونکی (شیطان) بیشکه چی شیطان تاسی ته دښمن دی پس تاسی هم ونیسئ دی (خپل) دښمن بیشکه هم دا خبره ده چه بولی شیطان ډله خپله (ځای د هلاک ته) دپاره د دی چی شی دوی له ملګرو د دوزخ (په آخرت کښی).

**تفسیر:** یعنی قیامت هرومرو (خامخا) راتلونکی دی. او علی الیقین تول مخلوقات د پاک الله په مخ کښی حاضریدونکی دی د دغی دنیا پر عیش او نشاط ـ عشرت ـ راحت میلو او چرچو ـ باغ او بهار ډیر مه مغروریږئ! او مه پری غولیږئ! او د دغه مشهور دغاباز شیطان په چلونو او فریبونو مه تیروځئ! ځکه چی دی ستاسی ازلی دښمن دی او له سره تاسی ته کومه مفیده مشوره نه درکوی او دی تل په هم دغه کوښښ او زیار(محنت) کښی دی چی تاسی هم له خپله ځانه سره په دوزخ کښی وغورځوی. راز راز (قسم قسم) خبری اتری درجوړوی څو تاسی د الله او د آخرت له جانبه غافل کړی. نو پر تاسی لازم دی چی دغه دښمن خپل دښمن وګنئ! او د ده خبرو ته غوږ مه ږدئ! او دغه خبره ورثابته او جوته کړئ چی مونږ له سره ستا په خبرو او لمسولو نه تیروځو او نه ستا د مکاری په جال کښی راتلی شو. او په دغه باندی ډیر ښه پوهیږو چی ته د دوستی په لباس کښی له مونږ سره دښمنی کوی.

ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٞۖ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٞ كَبِيرٌ ٧ أَفَمَن زُيِّنَ لَهُۥ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ فَرَءَاهُ حَسَنٗاۖ فَإِنَّ ٱللَّهَ يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُۖ فَلَا تَذۡهَبۡ نَفۡسُكَ عَلَيۡهِمۡ حَسَرَٰتٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِمَا يَصۡنَعُونَ ٨

هغه کسان چې کافران شوي دي شته دوی ته عذاب سخت او هغه کسان چې ایمان ئې راوړی دی (او له شیطانه ئې مخالفت کړی دی) او کړي ئې دي ښه (عملونه) شته دوی ته مغفرت ښښنه او اجر ډیر لوی. آیا پس هغه څوک چې ښائسته کړی شوی وی ده ته بد عمل د ده پس وینې ئې دی ښائسته پس بیشکه چې الله گمراه کوی هر هغه څوک چې اراده وفرمائی (د گمراهی ئې) او سمه صافه لاره ښیې هر هغه چاته چې اراده وفرمائی (د هدایت ئې) پس نه دې ځي (نه دی هلاکیږی) نفس ستا په (گمراهی) د دوی له جهته د افسوسه بیشکه چې الله جل جلاله ښه عالم دانا دی په هغو کارونو چې کوی ئې دوی (نو جزاء به ورکړی دوی ته).

**تفسیر:** یعنی شیطان چې د هر چا په سترگو کښې خراب کار ښه ورځرگند (ښکاره) کړی آیا دغه سړی له هغه چاسره برابر کیدی شي چې د الله تعالیٰ په فضل او کرم سره د خیر او شر په منځ کښې فرق او تمیز کولی شي! نیکی نیکه بولی ـ او بدی بده گڼی ـ کله چې دوی دواړه سره نشی برابریدی نو د دغو دواړو آخره خاتمه او انجام به څرنگه برابر کیدی شي؟ او داسی خیال مه کوئ چې کوم انسان به سره د خپلو رڼو سترگو پر بدو څنگه د ښو گمان وکړی. د الله تعالیٰ اراده د هر چا په نسبت چې د ده د سوءالاستعداد او سوءالاختیار په بناء په گمراهی او ضلالت تللی ده د هغه عقل به هم هغسی منقلب او په بل مخ اوړی او هر چاته چې د ده د حسن‌الاستعداد او حسن‌الاختیار د سببه سمه صافه لاره ښیی نو له سره د شیطان له واکه دغه نه دی پوره چې دی له سمی لاری څخه بی لاری کړی یا چتی (بیکاره) خبری او نامناسبه ښوونه ورته وکړی. په هر حال هغه سړی چې په شیطانی اغواوو سره بدو ته ښه او ښو ته بد وائی او په زهرو باندی د تریاقو گمان کوی د ده په نسبت داسی توقع نشی کیدی چې گوندی دی به پر سمه صافه لاره راشی کله چې دغسی نشی کیدی او د هدایت او د ضلالت ټوله سلسله د الله تعالیٰ د مشیت او حکمت تابع ده نو تاسی د دغو معاندینو په غم او اندیښنه کښی خپل ځان مه ویلی کوئ! او مه په دوی پسی کړیږئ! او مه د دغی خبری حسرت او ارمان کوئ چې دغه بدبختان ولی پر خپلو منافعو او زیانونو نه پوهیږی؟ او ولی حقه خبره نه منی؟ آیا تاسی غواړئ چې په دوی پسی خپل ځان او روح له لاسه وباسئ؟ تاسی د دوی دغه قصه یوی خوا ته پریږدئ! الله تعالیٰ ته د دوی گرد (ټول) اعمال او احوال ښه معلوم او ښکاره دی او بالذات له دوی سره حساب او کتاب کوی او د دوی په نسبت خپله لازمه فیصله صادروی تاسی مه خفه او مه غمجن کیږئ!

وَاللّٰهُ الَّذِیْٓ اَرْسَلَ الرِّیٰحَ فَتُثِیْرُ سَحَابًا فَسُقْنٰهُ اِلٰی بَلَدٍ مَّیِّتٍ فَاَحْیَیْنَا بِهِ الْاَرْضَ

بَعْدَ مَوْتِهَا كَذٰلِكَ النُّشُورُ ۝٩

او الله هغه (مطلق قادر) دی چی لیږلی ئی دی بادونه پس راپورته کوی (بادونه) وریځی پس راکاږو مونږ دغه وریځی هغه کلی (ځمکی) مړی (وچی کلکی بی وښو) ته پس ژوندی کوو مونږ په هغو (اوبو) ځمکه پس له مړوالی (وچوالی) د هغی هم داسی به وی حال د بیا ژوندی پورته کیدلو هم.

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ په حکم د هواؤ په وسیله وریځی پورته شوی او په هغی سیمی رقبه کښی چی مړه وچه کلکه پرته وه یعنی هیڅ واښه ، کښت (فصل) او شینکی په کښی نه ؤ ـ او له اتو خواؤ ئی دوړی او غبار پورته ؤ. د باران د اوبو له سببه په کښی ساه ولویده. هم داسی وګڼئ چی الله تعالیٰ به تاسی هم وروسته له مرګه بیا ژوندی راپاڅوی. په روایاتو کښی راغلی دی «څه وخت چی الله تعالیٰ د مړیو د بیا ژوندی راپاڅولو اراده وفرمائی نو له ماتحت العرش څخه به یو مخصوص قسم باران واوروی چی د دغه باران په اوبو سره به ټول مړی داسی ژوندی راپاڅیږی لکه چی د پسرلی د معمولی باران په اثر پتنګان او نور مچان او خوځندی د ځمکی له سوریو څخه ووځی ښائی چی مزید تفصیلات ئی په روایاتو کښی ولیدل شی.

مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْعِزَّةَ فَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ جَمِيعًا ۚ

هر هغه څوک چی وی چی اراده لری د عزت پس خاص الله ته دی عزت ټول

**تفسیر:** یعنی کفارو نور معبودان ځکه د خپلو ځانونو دپاره نیولی ؤ چی ګوندی د دغو معبودانو د الله تعالیٰ په دربار کښی ډیر عزت او پت وی ﴿ وَاتَّخَذُوا مِنْ دُونِ اللّٰهِ اٰلِهَةً لِّيَكُونُوا لَهُمْ عِزًّا ﴾ ۱٦ جزء د مریم ٥ رکوع ۸۱ آیت او ډیرو کسانو له مسلمانانو څخه مخ اړولی ؤ او له کفارو سره ئی خپله دوستی او خپلوی ټینګه کړی وه څو په دغه وسیله سره دوی پتمن او باعزت شی ﴿ الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْكٰفِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ ۚ أَيَبْتَغُونَ عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيعًا ﴾ جزء ٥ د نساء (۲۰) رکوع ۱۳۹آیت نو دغه قسم خلقو ته ئی دغه وروښودل چی هر هغه انسان چی د دنیا او آخرت عزت غواړی ښائی چی دغه عزت له الله تعالیٰ څخه وغواړی چی مطلق عزیز هم دی دی. او د الله تعالیٰ له اطاعت او یادولو څخه اصلی پت او عزت میسر کیږی. د ګردو (ټولو) اعزازونو مالک همغه واحد احد الله دی. هر هغه څوک چی عزت مومی یا ئی موندلی دی د هم دغه الله له خزائنو څخه ورته رسیدلی دی یا به وروررسیږی.

إِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ

خاص هم دغه (الله) ته پورته خيژی خبری پاکی (يعنی مقام د قبول او رضاء د ده ته)

**تفسير:** يعنی پاکيزه کلام ذکر الله، دعاء ، تلاوةالقرآن ، د علم او نصيحت خبری دی چی دغه گرد (تول) شيان د رب العزت دربار ته ورخيژی ـ او د قبول او اعتناء عزت حاصلوی.

وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهُ ط

او عمل صالح نيک پورته کوی. دغه (خپل عامل او عزتمن کوی ئی)

**تفسير:** د پاکيزهؤ کلامو (ذکر الله) او نورو ذاتی اقتضاء هم دا ده چی پاس خيژی. له هغه سره که نور صالحه اعمال وی نو د هغه په طفيل او وسيله هغوی هم پاس ورخيژی ـ او هغه ته زيات قوت ـ نشاط او تازگی ـ رفعت او عظمت ښښی. ښه کلام ته بی له ښو کارونو پوره د رفعت شان نه حاصليږی. ځينی مفسرين د ﴿ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهُ ﴾ د ضمائرو مرجع سره بدلوی او داسی معنی تری اخلی چی ښه کلام ښه کار لوړ (اوچت) او پورته کوی. دغه هم درست دی چی ځينو خلقو د (رفع) ضمير د الله تعالیٰ په لوری اړولی دی يعنی الله تعالیٰ صالحه اعمال لوړوی (اوچتوی) او د قبول تر معراج پوری ئی رسوی. په هر حال غرض دا دی چی ښه کار او ښی خبری دواړه علو او رفعت غوښتونکی دی لهٰذا هر هغه سړی چی د الله تعالیٰ د عزت طالب وی دغه عزت او رفعت دی د دی په وسيله حاصل کړی.
حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليکی «يعنی عزت د الله تعالیٰ د قدرت په لاس کښی دی. ستاسی ذکر او ښه کار پاس خيژی، کله چی خپل حد ته ورسيږی نو هلته پر بدی پوره غلبه حاصلوی. کفر به دفع کيږی او اسلام به معزز شی » او د مکارانو گردی (تولی) حيلی او پلمی (تدبيرونه) به عبث او بيکاره کيږی.

وَالَّذِينَ يَمْكُرُونَ السَّيِّاٰتِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ۖ وَمَكْرُ أُولٰٓئِكَ هُوَ يَبُورُ ﴿١٠﴾

او هغه کسان چی جوړوی (تاته د قتل ـ حبس ـ نفی) مکرونه ناکاره شته دوی ته عذاب ډير سخت او مکر فريب د دغو ( قريشو چی دی ستا په باب کښی) هم هغه فاسد باطل هلاک دی.

**تفسير:** يعنی هغه کسان چی بد تدابير جوړوی او د حق په خلاف تل په حيلو او پلمو

(تدبيرونو) جوړولو کښې مشغول او لګيا وی بالاخر ناکامه کيږی ـ او ضرور تاوان مومی. وګورئ قريشو په «دارالندوة» کښې سره جرګه او پر دغې خبرې ئې تړون وکړ «ښائی چې رسول الله دی يا ووژلی شی ـ يا دی بندی کړی شی ـ يا دی له ملکه د باندی وشړلی شی» د دغې فيصلی نتيجه داسی شوه چې د «بدر» د غزوی په وخت کښې هم دغه خلق له خپله وطنه د باندی وويستل شول ـ او هم دوی د مسلمانانو له لاسه ووژلی شول او د «بدر» په قليب او کوهی کښې د تل دپاره قيد کړل شول.

وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ جَعَلَكُمْ اَزْوَاجًا ؕ وَمَا تَحْمِلُ مِنْ اُنْثٰى وَلَا تَضَعُ اِلَّا بِعِلْمِهٖ ؕ

او الله پيدا کړی ئی تاسی (يعنی اول ځلی نيکه د تاسی) له خاورو بيا (تاسی اولاده ئی پيدا کړی) له څاڅکی (د منی) بيا ئی وګرځولی تاسی جوړی جوړی (ښځه او ميره (خاوند) دپاره د توالد او تناسل) او نه اخلی حمل هيڅ ښځه او نه ږدی (حمل هيڅ ښځه) مګر په علم د الله سره

**تفسير:** يعنی آدم عليه السلام ئی له خاورو څخه او بيا د هغه نوره اولاده ئی د اوبو له يوه څاڅکی څخه پيدا کړه ـ بيا له نارينه او ښځی څخه ئی جوړه پيدا کړه چی له هغو څخه انسانی نسل منتشر او خوريږی. په دغه ضمن کښی د حمل د استقرار له وخته د ووړکی د پيدا کيدلو تر وخته هغه اطوار او ادوار چی تيريږی پر هغو ګردو (ټولو) باندی الله تعالیٰ عالم دی او هغه داسی پټ او مخفی اعمال دی چی مور او پلار هم پری نه دی خبر چی دننه څه صور، اعمال او تحولات پيښيږی.

وَمَا يُعَمَّرُ مِنْ مُّعَمَّرٍ وَّلَا يُنْقَصُ مِنْ عُمُرِهٖٓ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ ؕ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ﴿۱۱﴾

او نشي اوږدیدلی عمر د هیڅ عمر اوږد کړی شوی او نه هیڅ قدر کمولی
شي له عمر د دغه (معمر) څخه (یا له عمره د بل معمر څخه یعني تزئید او
تنقیص د عمر نه دی) مګر په کتاب (د لوح محفوظ کښې لیکلی دی)
بیشکه دغه (لنډول او اوږدول د عمر) پر الله ډیر آسان دی.

**تفسیر:** یعني د هر چا چې هر قدر عمر وی هغه په «لوح محفوظ» کښې لیکلی شوی دی او هغه اسباب او وسائل چې د عمر د اوږدیدلو یا د لنډیدلو دی یا دا چې کوم یو به خپل طبیعی عمر ته رسیږی؟ او کوم یو به نه رسیږی؟ دغه ټول د الله تعالیٰ په محیط علم کښې موجود دی او پاک الله ته پر دغو ټولو جزئیاتو باندی احاطه لرل هیڅ اشکال نه لری او الله تعالیٰ ته د ګردو (ټولو) «**ماکان ومایکون**» جزئی ـ کلي ـ او د غیب او شهادت علم له ازله تر ابده او الیماشاءالله پوری حاصل معلوم او ښکاره دی نه ښائی چه د الله تعالیٰ علم او صفات پر خپل ځان قیاس کړی شي. حضرت شاه رحمة الله علیه لیکی «هر کار الله تعالیٰ ته ډیر آسان وی لکه د انسان پیدایښت» او رسونه ئی خپل مقدر عمر ته او هم داسې وګنې د اسلام تدریجی پرمختګ او ارتقاء او بالاخر د کفر مقهور او مغلوبیدل».

(او بل له قدرته د الله تعالیٰ اجل واعلیٰ شانه و اعظم برهانه دغه دی)

وَمَا يَسْتَوِي الْبَحْرَانِ ۖ هَٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ سَائِغٌ شَرَابُهُ وَهَٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ ۖ وَمِن كُلٍّ تَأْكُلُونَ لَحْمًا طَرِيًّا وَتَسْتَخْرِجُونَ حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا ۖ

او نه برابریږی سره هغه دواړه بحرونه سیندونه دا یو خوږ دی تنده لری
کوونکی خوندوری ښی هضمیدونکی ښی تیریدونکی اوبه د ده او دا بل تریو
دی تریخ او له هر یوه له دغو (دواړو بحرونو سیندونو څخه) خوری تاسی
غوښی تازه (د مهی) او راوباسئ (له دغه ترخه سینده) ګانه (د مرغلرو او
مرجانو) چې اغوندی (او اغوندوی ښځو خپلو ته)

**تفسیر:** له پاسه د توحید د دلائلو او د قدرت د شواهدو بیان ادامه لری چه په دغه ضمن کښې یوه لطیفه اشاره د اسلام د غلبې په طرف هم کیږی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «یعني کفر او اسلام سره برابر نه دی الله تعالیٰ کفر مغلوبوی اګر که تاسی ته به له دغو دواړو څخه فائده دررسیږی له مسلمانانو څخنی دین قوت او غلبه مومی او له کفارو څخنی جزیه او خراج حاصلوی. غوښه د خوږو او د ترخو د دواړو سیندونو څخه وځی یعني مهی (کب) مګر ګانه

(زيور) مرغلری ـ مرجان او جواهر علی‌الاکثر له ترخه (تریو) سیند څخه ایستل کیږی.

وَتَرَى الْفُلْكَ فِيهِ مَوَاخِرَ لِتَبْتَغُوا مِنْ فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٢﴾

او (تل) وینی ته بیړی (او جهازونه) په دغه (بحرسیند) کښی تلونکی خیروونکی (د اوبو) دپاره د دی چه طلب کړئ تاسی له فضله د الله (په تجارت کښی) او دپاره د دی چه تاسی شکر وباسئ (په دغه لوی نعمت).

**تفسیر:** اکثریه لوی لوی او مهم تجارت او سوداګری د جهازونو په وسیله کیږی. له هغه څخه کوم منافع چی حاصلیږی هم دغه د پاک الله فضل او مهربانی ده. پر دغو فوائدو او انعاماتو انسان ته لازم دی چه د دغه مالک الملکوت او صاحب الکبریاء والجبروت حمد او شکر اداء کړی!

يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِي لِأَجَلٍ مُسَمًّى ط

ننباسی (الله) شپه په ورځ کښی او ننباسی (الله) ورځ په شپه کښی او مسخر په کار کښی ئی لګولی دی لمر او سپوږمی چی هر یو بهیږی (روان دی) تر یوی نیتی په نامه کړی شوی (چی ورځ د قیامت ده)

**تفسیر:** دغه مضمون پخوا له دی نه په څو ځایونو کښی تیر شوی دی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «یعنی د شپی او ورځی په شان کله کفر غلبه مومی او کله اسلام او د لمر او سپوږمی په شان د هر یوه څیز دپاره یو مدت تاکلی (مقرر) شوی دی چه په هغه کښی څه ډیل او ځنډ (تاخیر) وړاندی وروسته نه کیږی. او د حق واضحه او ښکاره غلبه به پخپل تاکلی (مقرر کړی) وخت کښی کیږی.

ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ ط وَالَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ مَا يَمْلِكُونَ مِنْ قِطْمِيرٍ ط ﴿١٣﴾

دغه (ذات موصوف په پاس صفاتو) الله دی رب ستاسی خاص هم ده ته دی

ملک باچاهی او هغه (بتان) چی بولی ئی تاسی (ای مشرکانو او عبادت ئی کوی) بی له دغه (الله) نه دی مالکان دوی د نری پردی (چی په زړی) د خرماؤ (کښې پرته وی).

**تفسیر:** یعنی د هغه لوی ذات صفات چی پاس بیان شول هم هغه فیالحقیقت ستاسی حق الله دی. او د ټولو علویاتو او سفلیاتو ـ خالق ـ مالک ـ الله دی. هغه شیان چی ستاسی له خوا معبودان درولی شوی دی او تاسو ئی بولی او عبادت ورته کوی د هغو خوارانو باچاهی او خپلواکی چیری بلکه دوی د هغی نری پردی په اندازه هم د یوه څیز مالکان نه دی چه د کجورو (خرماؤ) په زړیو پوری نښتی وی.

إِن تَدْعُوهُمْ لَا يَسْمَعُوا دُعَاءَكُمْ وَلَوْ سَمِعُوا مَا اسْتَجَابُوا لَكُمْ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكْفُرُونَ بِشِرْكِكُمْ

که وبولئ تاسی (ای منکرانو) دغه بتان نه آوری (دغه بتان) بلنه ستاسی او که (بالفرض) وائی وری دوی نو نه به شی درکولی جواب ستاسی (ځکه چی ژبه نه لری) او په ورځ د قیامت به منکران شی دوی په شریک کولو ستاسی (باندی دوی لره سره له الله نه)

**تفسیر:** یعنی له هغو معبودانو څخه چی تاسی مرسته (مدد) او امداد غواړی او هغه خپلو ځانونو ته وسیله ګنی دوی ستاسی غږ او بلنه نه اوری ـ او که تاسی ته څه توجه هم وکړی هغه ستاسی په کار نشی درتلی ـ او په درد مو نه خوری بلکه د قیامت په ورځ به دوی ستاسی د دغه شرک څخه په علانیه ډول (طریقه) د خپل تنفر او بیزاری اعلان کوی او د امداد او کومک په ځای به تاسی ته دښمنان ثابت شی.

وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِيرٍ ﴿١٤﴾

او خبر به نه کړی تا (له حقیقت د دی کار هیڅ خبرؤنکی) په شان (د خبرولو د هغه ښه عالم) ښه خبردار (الله).

**تفسیر:** یعنی له الله تعالیٰ ځنی پر ټولو احوالاتو باندی بل څوک ښه علیم او خبردار دی؟ هم دغه علیم او خبیر الله تعالیٰ فرمائی چی دغه شرکاء بیخی چتی (بیکاره) او غلط دی ـ او له سره

ستاسی په کار نه درځی دغسی سمی صافی ثابتی پخی او جوتی خبری بی له الله تعالیٰ نه ـ بل څوک تاسی ته کولی شی؟ او ښولی شی؟.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ أَنتُمُ ٱلۡفُقَرَآءُ إِلَى ٱللَّهِۖ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ﴿١٥﴾

ای خلقو تاسی فقیران محتاجان یئ الله ته، او الله هم دی دی غنی بی پروا ښه حمد ثناء ویلی شوی،

**تفسیر:** یعنی تول مخلوقات هم هغه الله جل جلاله ته اړ (مجبور) او محتاج دی او الله جل جلاله هیچا ته او هیڅ شی ته اړ (مجبور) او محتاج نه دی ځکه چه گرد (تول) محاسن ـ محامد او صفات د ده په محمود او ذی الجود وجود کښی مجموع او موجود دی نو هم دغه الله جل جلاله د بلنی او دعاء وړ (مستحق) او لایق دی او د امداد او استعانت څیښتن (مالک) او مستحق دی چی د خپلو بندگانو هر راز (قسم) دعاء او سؤال اوری او په خوښی سره ئی مستجابوی او که څوک د ده لوی دربار ته خپل عجز ـ نیاز او افتقار نه وړاندی کوی په قهریږی

الله یغضب ان ترکت سؤاله
وبنی آدم حین یسأل یغضب

له خالقه که ونه غواړی په قهر شی
له مخلوقه چی وغواړی دوی په قهر شی

إِن يَشَأۡ يُذۡهِبۡكُمۡ وَيَأۡتِ بِخَلۡقٖ جَدِيدٖ ﴿١٦﴾ وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ بِعَزِيزٖ ﴿١٧﴾

که اراده وفرمائی (الله) د بیولو ستاسی (په هلاک سره نو بو به موځی) او را به ولی نور مخلوق نوی (بدل د تاسی) او نه دی دغه (شړل ستاسی او راوستل د نورو) پر الله څه سخت مشکل.

**تفسیر:** یعنی که تاسو ئی منئ یا ئی نه منئ الله تعالیٰ داسی مطلق قادر دی چه تاسی گرد (تول) له منځه ورک کړی او خپل بل مخلوق ستاسی په ځای ودان او ودروی چه من کل الوجوه الله تعالیٰ ته داسی مطیع تابع او حکم منونکی وی لکه چی په آسمانونو کښی پرښتی د ده خالصی او مخلصی بندگانی دی او داسی کول پاک الله ته دیر سهل او آسان دی. لیکن د الله د حکمت اقتضاء داسی ده چی په ځمکه کښی دغه گردی (تولی) سلسلی ښائی چی قائمی او جاری وی او په پای (آخر) کښی هر یو د خپلو ښو او بدو اعمالو جزا او بدل ومومی. څو په

دغه ترتیب سره د الله تعالیٰ د تولو صفاتو ظهور په عمل راشی.

وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰی ؕ وَاِنْ تَدْعُ مُثْقَلَةٌ اِلٰی حِمْلِهَا لَا یُحْمَلْ مِنْهُ شَیْءٌ وَّلَوْ كَانَ ذَا قُرْبٰی ؕ

او نه اخلی (هیڅ نفس عاصی) بار د ګناه د بل نفس او که راوبولی درونده باری (بل څوک) بار د ګناهونو خپلو ته وابه نه خیستی شی له هغه څخه هیڅ څیز او اګر که وی (دغه بللی شوی) خاوند د خپلوی هم،

**تفسیر:** یعنی هیڅوک به خپل د خپلوانو، عزیزانو او اقاربو بار پخپل سر وانخلی او نه به یو د بل د ګناه له پیتی څخه لږ څه کم کړی او نه به د بل چا د بللو او غږ کولو څخه څه ګټه (نفع) او فائده وررسیږی اګر که ئی ډیر نژدی خپلوان هم وی. ګرد (تول) خلق به نفسی! نفسی!! وائی هلته یوائی د الله تعالیٰ په فضل او مرحمت سره کار چلیږی او بس!.

اِنَّمَا تُنْذِرُ الَّذِیْنَ یَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَیْبِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ؕ

بیشکه هم دا خبره ده چی ویروی ته هغه کسان چی ویریږی له ربه خپله په غیبو سره او قائموی (سم اداء کوی سره له تولو حقوقو) لمونځ

**تفسیر:** یعنی ستاسی له ویرولو څخه هم هغه سړی خپله رویه ښه کوی ـ او نفع تری آخلی چی له الله تعالیٰ څخه بالغیب ویریږی ـ او د ده له ویری څخه تل په عبادت کښی لګیا وی ـ د هر چا په زړه کښی چی د الله تعالیٰ خوف او ویره بیخی نه وی ـ نو هغه کله له دغو ویرولو څخه متأثر کیږی.

وَمَنْ تَزَكّٰی فَاِنَّمَا یَتَزَكّٰی لِنَفْسِهٖ ؕ وَاِلَی اللّٰهِ الْمَصِیْرُ ⑱

او هر څوک چی ځان پاک کړی (له شرکه او معاصی) پس بیشکه هم دا خبره ده چی ځان ئی پاک کړ دپاره (د نفعی) د ځان خپل او خاص (طرف) د الله ته ورتله دی (د هر چا).

**تفسیر:** یعنی هر څوک چی ستا پند او نصیحت واوری او خپل وضعیت اصلاح او ښه کړی نو د ده احسان او منت نه پر تا او نه پر الله تعالیٰ وی. بلکه په دغه کښی په خپله د هم هغه سړی فائده ده ـ او دغه فائده په پوره ډول (طریقه) سره هلته څرگندیږی (ښکاره کیږی) چی د گردو (تولو) رجوع او بیرته ورتگ الله تعالیٰ ته شی.

وَمَا يَسْتَوِي الْأَعْمَىٰ وَالْبَصِيرُ ﴿١٩﴾ وَلَا الظُّلُمَاتُ وَلَا النُّورُ ﴿٢٠﴾
وَلَا الظِّلُّ وَلَا الْحَرُورُ ﴿٢١﴾ وَمَا يَسْتَوِي الْأَحْيَاءُ وَلَا الْأَمْوَاتُ

او نه برابریږی سره ړوند (کافر) او لیدونکی (مؤمن) او نه تیاره (باطل) او نه رڼا (رڼرا) (حق) او نه سیوری (ثواب یا جنت) او نه تود باد (عقاب یا دوزخ) او نه برابریږی سره ژوندی (علما) او نه مړی (جهلاء)

**تفسیر:** یعنی هغه مؤمن چی الله تعالیٰ ورته د زړه سترگی ښبلی دی د حق په رڼا (رڼرا) او د الله تعالیٰ د وحی په پلوشو کښی بی له کوم تکلیفه او زحمته دغه لاره پری کوی ـ او برابر د جنت باغونو او د الله تعالیٰ د رحمت سیوری ته رسیږی ـ آیا له دغسی انسان سره هغه کافر سیالی او برابری کولی شی چی د زړه ړوند او د اهواؤ او اوهامو په تیارو کښی حیران سرگردان گرځی ـ او بالاخر ناڅاپه او بی تحاشا د جهنم اور او د هغه سخت سوځوونکی تاوده باد په طرف مندی وهی؟ له سره دغه دواړه سره نه دی برابر او که داسی وی نو داسی وپوهیږئ چه مړی او ژوندی سره برابر شول. فی‌الحقیقت د مؤمن او کافر په منځ کښی له دی نه هم زیات داسی فرق او تفاوت شته چی د یوه ژوندی روغ رمټ انسان او د یوه مړی لاش په منځ کښی وی. اصلی او دائمی ژوندون یواځی د ایمان د روح په برکت پیدا کیږی ـ او ماسواء له ایمانی روح څخه ښائی ژوندی انسان له زرهاوو مړیو څخه بدتر وگانه شی.

إِنَّ اللَّهَ يُسْمِعُ مَن يَشَاءُ ۖ وَمَا أَنتَ بِمُسْمِعٍ مَّن فِي
الْقُبُورِ ﴿٢٢﴾ إِنْ أَنتَ إِلَّا نَذِيرٌ ﴿٢٣﴾

بیشکه چی الله آوروی هر هغه چاته چی اراده وفرمائی (د آورولو ئی) او نه ئی ته (ای محمده!) اوروونکی (د نافع قول) هغو ته چی په قبورو هدیرو کښی دی. نه ئی ته (ای محمده!) مگر ویروونکی (د منکرانو له جحیمه).

**تفسیر:** یعنی که الله تعالیٰ اراده وکړی نو مړیو ته ئی هم آوروِلی شی حال دا چی د دغی خبری قدرت نورو ته نشته هم داسی وګڼئ چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم کار دعوت ـ تبلیغ ـ پیغام رسول او په خیر او شر باندی پوهول او خبرول دی. که زړه مړی کافران دغه خبری وانه وری نو هغه آورول د حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم له قوته او قدرته پورته دی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «یعنی ګرد (تول) خلق سره نه دی برابر د هر چا په نسبت چی د ایمان د اعطاء فیصله شوی ده هم هغه به د ایمان خاوند کیږی که نه هومره ډیر خلق چی د ایمان هیله (ارزو) او امید وکړی کله ئی ور په برخه کیږی ـ دغه ئی فرمایلی دی چی «نه تیاره نه رڼا (رڼرا) یعنی نه تیاره له رڼا (رڼرا) سره برابره ده او نه رڼا (رڼرا) له تیاری سره (په دغه سره ئی د «لا» د تکرار فائده راوښوده) او وئی فرمایل او نه ئی ته آورووُنکی هغو ته چی په هدیرو کښی پراته دی. «په حدیث کښی راغلی دی چی مړیو ته سلام واچوئ!» او په ډیرو ځایونو کښی مړیو ته خطاب هم کړی شوی دی د دی خبری حقیقت دا دی چی د مړی روح آوری ـ او هغه جثه ئی چی په قبر کښی پرته ده نه آوری» دغه بحث پخوا له دی نه د «نمل» د سورت په آخر کښی تیر شوی دی هلته دی وکوت شی!.

---

إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ بَشِيرٗا وَنَذِيرٗاۚ وَإِن مِّنۡ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٞ ﴿٢٤﴾

---

بیشکه چی مونږ لیږلی مو ئی ته په حق رښتیا (دین) سره زیری ورکوونکی (د جنت مؤمنانو ته) او ویروونکی (له دوزخ کفارو ته) او نه ؤ هیڅ امت مګر چی تیر شوی په هغه کښی کوم ویروونکی.

---

**تفسیر:** ویری آورووُنکی نبی وی یا د نبی قائم مقام ـ هر ځوک چی د الله تعالیٰ د لاری په لوری بلنه وکړی د دی په متعلق د «نمل» د سورت په (٤ رکوع) کښی څه لیکلی شوی دی.

---

وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدۡ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَبِٱلزُّبُرِ وَبِٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُنِيرِ ﴿٢٥﴾

---

او که دروغجن بولی (کفار) تا (نو مه خفه کیږه ځکه چی) پس په تحقیق دروغجن ئی بللی وو (انبیاء خپل) هغو کسانو چی وو پخوا له دوی نه چی راغلی ؤ دوی ته رسولان د دوی په ښکاره دلائلو (د قدرت) او په صحیفو سره او په کتاب ښکاره کوونکی (د حق او باطل).

**تفسير:** يعنى پخوانيو انبياء الله هم دغه روښان تعليمات يا ښكاره معجزات له خپلو ځانونو سره راوړى ؤ له هغو ځنى ځينو ته مختصرى مختصرى صحيفى او ځينو ته لوى مفصل كتابونه وركړى شوى دى.

ثُمَّ اَخَذْتُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿۲۶﴾

بيا مى ونيول هغه كسان چى كافران شوى ؤ (په سخت عذاب سره) پس څرنگه شو انكار زما (او تغيير د دوى په عذاب سره).

**تفسير:** يعنى كله چى له تكذيب څخه دوى مخ وانړوه نو وگورئ چى د هغوى آخره خاتمه څرنگه شوه؟ ستاسى انجام هم هغسى كيدونكى دى.

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ۚ فَاَخْرَجْنَا بِهٖ ثَمَرٰتٍ مُّخْتَلِفًا اَلْوَانُهَا ؕ

آيا نه وينى ته چى بيشكه الله نازلى كړى دى له (جانبه) د آسمانه اوبه پس راويستلى مونږ په وسيله د دى (اوبو) ميوى په دى حال چى مختلف دى رنگونه د دغو (ميوو).

**تفسير:** يعنى قسم قسم ميوى ـ بيا په يوه قسم كښى رنگا رنگ ثمرات ئى پيدا كړى دى. له يوى ځمكى او له يو اوبو او له يوى هوا څخه د دغومره مختلفو اشياؤ او انواعو پيدا كول د پاک الله عجيب او غريب قدرت ښكاره كوى.

وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌۢ بِيْضٌ وَّحُمْرٌ مُّخْتَلِفٌ اَلْوَانُهَا وَغَرَابِيْبُ سُوْدٌ ﴿۲۷﴾

او ځينى له غرونو (خاوندان د) لارى (توتى توتى) دى سپينى او سرى چى مخالف دى سره رنگونه د دغو (لارو) او (ځينى د دوى) تک تور دى.

**تفسير:** يعنى سپين هم په څو څو درجو دى كوم ئى تک سپين لكه د مرمر ډبره ـ كوم ئى سپين لكه مالگه او ځينى ئى نسبتاً سپين او سور هم په څو څو درجو او تور هم په څو څو درجو دى ځينى تک تور لكه رانجه او د ډبرو سكاره او ځينى تور لكه د كارغه وزر او ځينى نسبتاً تور. او په ځينو غرونو كښى رنگا رنگه رگونه او لارى شته.

وَمِنَ النَّاسِ وَالدَّوَآبِّ وَالْأَنْعَامِ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ كَذَٰلِكَ

او (هم داسی) له خلقو څخه هم او (هم داسی له نورو) ژوندیو خوځیدونکو او څارویو څخه هم چی سره مخالف دی رنګونه د هغو هم داسی (لکه دغه اختلافات)

**تفسیر:** دغه ګرد (تول) د قدرت د عجائبو او غرائبو تذکره ده. یعنی هم هغسی چی په نباتاتو - جماداتو - حیواناتو کښی راز راز (قسم قسم) او رنګ په رنګ مخلوقات لیدل کیږی په انسانانو کښی هم هره نوعه او صنف سره بیل او جلا (جدا) دی. که د مؤمن په شان کافر هم سمه صافه لاره ځان ته غوره کړی او دواړه سره یو شی. او ګرد (تول) انسانان یو رنګ ځان ته غوره کړی - نو دغه کله امکان لری او له سره نشی کیدی. په دغه سره ئی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اطمینان او تسلی ورکړی ده چی تاسی د مخلوقاتو له اختلافاتو څخه مه خفه کیږئ!.

إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَٰٓؤُا إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ ﴿٢٨﴾

بیشکه هم دا خبره ده چی ویریږی له الله څخه له بندګانو د دغه (الله) پوهنده عالمان، بیشکه الله ښه غالب قوی دی (په انفاذ د احکامو) ښه مغفرت کوونکی دی (د خطیاتو).

**تفسیر:** یعنی نه ویریدونکی بندګان هم شته او د الله تعالیٰ څخنی ویریدونکی هم دی مګر ویریږی هغه کسان چی الله تعالیٰ د عظمت او جلال او د آخرت د بقأ او دوام او د دنیا په فناء او اتمام باندی پوهیږی او د الله تعالیٰ د احکامو او هدایاتو د علم تحصیل کوی - او تل د مستقبل په فکر کښی اوسیږی - په هر هغه چا کښی چی دغه پوهه او علم په هره درجه وی په هم هغه درجه به دی هم له الله تعالیٰ څخه ویریږی - په هغه کښی چی خوف نه وی هغه فی‌الحقیقت د دی خبری مستحق نه دی چی ورته پوه او عالم وویلی شی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «یعنی ګرد (تول) انسانان ویریدونکی نه دی له الله تعالیٰ څخه ویریدل د پوهانو صفت او کار دی - او د الله تعالیٰ معامله هم په دوه ډوله (قسمه) ده. الله غالب قوی او زبردست هم دی چی په هره خطاء چی سړی ونیسی نیولی ئی شی - او غفور - رحیم هم دی که ګنهګاران وبښی ښښلی ئی هم شی» نو په دواړو حیثیتو انسان ته ښائی چی د الله تعالیٰ څخه وویریږی ځکه چی نفع او ضرر دواړه د الله تعالیٰ په واک (اختیار) او قبضه کښی دی نو هر کله چی اراده وکړی نفع

ستنوی (واپس کوی) او ضرر لاحقوی.

إِنَّ الَّذِينَ يَتْلُونَ كِتَٰبَ اللَّهِ وَأَقَامُوا الصَّلَوٰةَ وَأَنفَقُوا مِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً يَرْجُونَ تِجَٰرَةً لَّن تَبُورَ ﴿٢٩﴾

بیشکه هغه کسان چی لولی کتاب د الله (قرآن) او قایموی (تل سم اداء کوی سره له تولو حقوقو) لمونځ او لګوی (په لاره د الله کښی) ځینی له هغو شیانو شخه چی ورکړی مو دی دوی ته (لګوی ئی) په پټه او په ښکاره امید لری دوی د داسی یوه تجارت چی له سره نه هلاک کیږی.

**تفسیر:** یعنی هر هغه چی د الله تعالیٰ شخه ویریږی. قلباً او لساناً مسلمان شی ـ او د ده احکام ومنی ـ او د ده کتاب په اخلاص او عقیدت سره ولولی ـ او په بدنی او مالی عباداتو کښی هیڅ قصور او کوتاهی ونه کړی ـ نو دغه مسلمان دی د داسی لوی او زورور تجارت او اعتباری سوداګری هیلمن (ارزومند) او امیدوار اوسی چی له سره په هغه کښی نقص او خساره نه عائده کیږی او د ضرر او تاوان احتمال په کښی نشته. بلاشبهه کله چی په خپله الله تعالیٰ د دوی د اعمالو پیرودونکی او اخیستونکی وی نو دی په دغه هیله (ارزو) او امید کښی بیخی حقدار دی، او ده ته د خسران او نقصان اندیښنه له هیڅ طرفه نه ده متصوره ـ او له سره تر پایه بیخی نفع په نفعه کښی دی او ګټه (فائده) ورته رسیږی.

لِيُوَفِّيَهُمْ أُجُورَهُمْ وَيَزِيدَهُم مِّن فَضْلِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ غَفُورٌ شَكُورٌ ﴿٣٠﴾

دپاره د دی چی پوره ورسوی (الله) دوی ته اجرونه (د عملونو) د دوی او زیات ورکړی دوی ته له فضله خپله بیشکه چی دغه (الله) ښه ښښونکی (د معصیاتو) دی ښه قبلونکی (د احسان د محسنینو) دی.

**تفسیر:** یعنی ډیر ګناهونه ښښی او معافوی ئی او د خورا (ډیر) لږ طاعت قدر فرمائی ـ او سم له اصوله او قاعدی شخه کوم ثواب چی ښائی چا ته ورسیږی الله تعالیٰ له هغه شخه زیات ثواب ورعطاء کوی.

وَالَّذِيٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ مِنَ الْكِتَٰبِ هُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ ۗ

إِنَّ اللَّهَ بِعِبَادِهِ لَخَبِيرٌ بَصِيرٌ ﴿٣١﴾

او هغه چې وحی کړی ده مونږ تاته له کتابه (قرآنه) هم هغه حق رښتیا ده په دغه حال کښې چې مصدق رښتینی کوونکی دی هغو کتابونو ته چې پخوا له دی نه وو، بیشکه الله پر بندګانو خپلو خامخا ښه خبردار دی (په باطن د دوی) ښه لیدونکی دی (په ظاهر د دوی).

**تفسير:** يعني د بندګانو پر احوالو ښه عليم او خبير دی او په ښه موقع کښې ئې دغه کتاب نازل کړی دی.

ثُمَّ أَوْرَثْنَا الْكِتَابَ الَّذِينَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِنَفْسِهِ وَمِنْهُمْ مُقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌ بِالْخَيْرَاتِ بِإِذْنِ اللَّهِ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيرُ ﴿٣٢﴾

بیا مو وارث وګرځول (او ور مو کړ دا) کتاب (قرآن) هغو کسانو ته چې غوره کړی مو دی له بندګانو خپلو (چې دغه محمدی امت دی) پس ځینی له دوی ظالم دی پر خپل ځان او ځینی له دوی په منځ د لاری کښې برابر تلونکی دی او ځینی له دوی ړومبی کیدونکی دی خیراتونو نیکیو ته په اذن حکم د الله دغه (توریت او غوره کول هم دغه) یو فضل دی ډیر لوی.

**تفسير:** يعني وروسته د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه د دغه کتاب وارث محمدی امت ګرځولی شوی دی چې په مجموعی حيثيت او هيئت د ګردو (تولو) امتونو څخه غوره ـ افضل او اعلیٰ دی. هو! د امت ګرد (تول) افراد سره يو شان نه دی په دوی کښې ځينی افراد خو هغه دی چې سره له صحيح ايمانه په ګناهونو کښې اخته او مبتلا کيږی چې دغه «ظالم لنفسه» شو او هغه دی چې متوسط تلونکی دی يعنی نه په ګناه کښې لګيا او نه منهمک ـ او نه لوی ولی او بزرګ دی دغو ته ئې «مقتصد» وفرمايل يو خو هغه کامل بنده دی چې د الله تعالیٰ په فضل او توفيق سره ئې پر مخ تګ کړی دی او د محاسنو ـ فضائلو او کمالاتو په تحصيل کښې له مقتصدانو څخه ډير مخ کښې تللی دی مستحب شيان ئې هم نه دی پريښی ـ او د ګناه له خوفه له تنزيهی مکروه بلکه له مباحاتو څخه هم پرهيز کوی ـ او خپل ځان ژغوری (؟) د اعلیٰ درجی

بزرګي او د فضيلت خاوندان هم دوی دي. په دغسې منتخبو او غورو بندګانو کښې له يوه حيثيته ګرد (تول) مسلمانان سره شميرلي شوي دي ځکه چې دوی ګرد (تول) درجه په درجه جنتيان دي ګنهګار هم که مؤمن وي نو يوه نه يوه ورځ حتماً جزماً په جنت کښې ننوځي. په حديث کښې فرمايلي شوي دي «چې زمونږ ګنهګاران ګرد (تول) سره معفو او ښېلي شوي دي» يعنې بالاخر د دوی په برخه معافي ده. او مقتصد په سلامت دي. او پرمخ تلونکي له ګردو (تولو) څخه په مخ کښې دي. خو سره له دي الله کريم دي او د ده په لوی دربار کښې هيڅ بخل او امساک نشته.

جَنّٰتُ عَدْنٍ يَّدْخُلُوْنَهَا يُحَلَّوْنَ فِيْهَا مِنْ اَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَّلُؤْلُؤًا ۚ وَلِبَاسُهُمْ فِيْهَا حَرِيْرٌ ﴿۳۳﴾

جنتونه د هستوګنې دي ننوځي به (دغه دری واړه طائفی) په هغو کښې ګانهدار کولی بشي په دغه (جنت) کښې له باهوګانو (وښيو) څخه له سرو زرو (خالصو) او له مرغلرو (صافو) او جامي د دوی په دغه (جنت) کښې د وريښمو «مخصوصو» به وي.

**تفسير:** سره زر او وريښم د مسلمانانو نارينه ؤ دپاره هلته دي په جنت کښې نه دلته په دنيا کښې. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي هر هغه (نارينه) چې ورښمين (جامي) اغوندي په دنيا کښې وابه ئې نغوندي په آخرت کښې.

وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْٓ اَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ ؕ اِنَّ رَبَّنَا لَغَفُوْرٌ شَكُوْرُ ۨ ﴿۳۴﴾

او وبه وائي (جنتيان په وخت د دخول د جنت کښې) توله ثناء صفت خاص الله ته دي هغه الله چې بو ئې ته (لرې ئې کړ) له مونږ څخه خفګان بيشکه رب زمونږ خامخا ښه ښونکي (د عاصيانو) ښه قدردان (د نيکانو) دي.

**تفسير:** يعنې د دنيا او د محشر غم ئې لرې او ورک کړ او ګناه ئې وروبښله او د قدرداني له لوری ئې زمونږ لږ طاعت قبول وفرمايه.

الَّذِيْٓ اَحَلَّنَا دَارَ الْمُقَامَةِ مِنْ فَضْلِهٖ ۚ لَا يَمَسُّنَا فِيْهَا نَصَبٌ وَّلَا يَمَسُّنَا فِيْهَا لُغُوْبٌ ﴿۳۵﴾

هغه (رب) چې را ئې وستو مونږ کور د اقامت (جنت ته) له فضله خپله چې نه رسیږی مونږ ته په دغه (جنت) کښې هیڅ مشقت او نه رسیږی مونږ ته په دغه (جنت) کښې هیڅ ستومانی خفگان.

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «د هستوگنی کور له دی نه پخوا هیڅ نه وو - هر چیری به تلل راتلل نقل او حرکت ؤ - د روزی غم - د دښمنانو اندیښنه - د رنځ او مشقت مصیبت او نور مصاعب او مصائب به موجود ؤ کله چې جنت ته ورسیږی دغه گرد (تول) شیان له منځه لری او ورک کیږی ».

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ نَارُ جَهَنَّمَ ۚ لَا يُقْضٰى عَلَيْهِمْ فَيَمُوْتُوْا وَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ مِّنْ عَذَابِهَا ؕ كَذٰلِكَ نَجْزِيْ كُلَّ كَفُوْرٍ ۚ ﴿۳۶﴾

او هغه کسان چې کافران شوی دی شته دوی ته اور د دوزخ حکم به ونه کولی شی پر دوی (د دوهم مرگ چې) پس مړه (او په آرام) شی او نه به سپکوالی کاوه شی له دوی نه له عذابه د دی (اور د دوزخ) هم داسی جزاء ورکوو مونږ هر ناشکره (بی ایمانه) ته.

**تفسیر:** نه کفارو ته به جهنم کښې مرگ وررسیږی چې د دوی هغه تکالیفو ته خاتمه ورکړی او نه به د عذابه تکلیف لږ شیبه هم له دوی نه کمیږی داسی ناشکرانو ته زمونږ له جانبه هم دغسی سزاوی وررسیږی.

وَهُمْ يَصْطَرِخُوْنَ فِيْهَا ۚ رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا غَيْرَ الَّذِيْ كُنَّا نَعْمَلُ ؕ

او دوی به ناری سوری وهی په دغه دوزخ کښې (او داسی به وائی) ای ربه زمونږ (یو کرت) راوباسه مونږ (بیرته دنیا ته ځو هلته) عمل وکړو صالح نیک غیر له هغه چې وو مونږ چې کاوه به مو (پخوا له دی بد عمل)

**تفسير:** يعني په هغه وخت کښې دوی هغه ښه ګڼل مګر اوس داسې وائی چه بيا به هم هغسې عملونه ونه کړو د لږ مدت له مخې مونږ له دوزخ څخه وباسه څو مونږ ښې چارې ـ صالحه اعمال ـ او حسنه افعال ځان ته راټول کړو او سره له اطاعته او غاړه ايښودلو او فرمان منلو بيرته درحاضر شو. بيا الله تعالیٰ ورته داسې فرمائي

أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُم مَّا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَن تَذَكَّرَ وَجَاءَكُمُ النَّذِيرُ ۖ فَذُوقُوا فَمَا لِلظَّالِمِينَ مِن نَّصِيرٍ ﴿٣٧﴾

آيا نه وو درکړې مونږ تاسې ته عمر دومره (موده) چې پند اخلې په هغه کښې هر هغه څوک چې پند اخيستل غواړی او راغلی ؤ تاسې ته ويرونکی (چې د هغو خبره مو ونه منله) پس وڅکئ (عذاب) پس نشته ظالمانو (کافرانو) ته هيڅوک مددګار (چه له عذابه ئې خلاص کړی).

**تفسير:** دغه جواب به دوزخيانو ته ورکاوه کيږی. يعني مونږ خو تاسې ته عقل او پوه درکړې وه او پوره عمر مو هم در په برخه کړی ؤ چې ښائی تاسې به په هغه کښې ښه فکر او غور کاوه او ښه به مو له بده جلا (جدا) او سمه صافه لاره به مو ځان ته غوره کړی وی تر دی چې له تاسې څنې ډير کسان تر شپيتو ـ اويا او اتيا کلونو پورې هم په دنيا کښې ژوندون کړی ؤ ـ برسيره په دی ستاسې د هدايت او لارښوونې دپاره مونږ تاسې ته داسې اشخاص او حالات هم درليږلی و چې تاسې د بديو له خرابی خاتمې څخه وويروی او د غفلت له خوبه مو ويښ کړی ـ آيا وروسته له دی نه اوس تاسې ته کوم عذر او بهانه پاتې ده؟ اوس نو په هم دغه دوزخ کښې اوسيږئ! او د سختو عذابونو خوندونه وڅکئ! او له هيڅ لورې د هيڅ چا امداد او معاونت ته هم څه هيله (اميد) او توقع مه لرئ!.

إِنَّ اللَّهَ عَالِمُ غَيْبِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٣٨﴾

بيشکه چې الله عالم دی په پټو (اسرارو) د آسمانونو او د ځمکې بيشکه الله ښه عالم دی پر هغو خبرو چې پټې دی په سينو زړونو کښې.

**تفسیر:** یعنی پاک الله ته د بندګانو ګردی (تولی) پټی او ښکاره خبری، احوال افعال، او د زړونو اسرار معلوم دی د هیڅا نیت او استعداد له الله تعالیٰ څخه پټ نه دی او سم له هغه له هر چا سره معامله کوی. الله جل جلاله ته دغه خبره هم څرګنده (ښکاره) ده چی دغه خلق چی اوس داسی ناری او سوری وهی چی مونږ یو ځلی خوشی کړه چی بیرته دنیا ته لاړ شو څو هلته په صالحه ؤ اعمالو بوخت (مشغول) او له سره ګناه ته ورنژدی نشو دوی پخپلو دغو دعوو کښی دروغجنان دی ځکه که دوی اویا ځلی نور هم پریښودی شی چی بیرته لاړ شی څو صالحه اعمال وکړی خو بیا هم دوی له خپلو شرارتونو او بغاوتونو څخه لاس اخیستونکی نه دی د دوی عادت او د مزاج اقتضاء هم داسی ده. ﴿وَلَوْ رُدُّوا لَعَادُوا لِمَا نُهُوا عَنْهُ وَإِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ﴾ ۷ جزء (د الانعام (۳) رکوع) ۲۸ آیت

هُوَ الَّذِي جَعَلَكُمْ خَلَائِفَ فِي الْأَرْضِ

دغه (الله) هم هغه ذات دی چی ګرځولی ئی یئ تاسی خلیفګان (د تیرو خلقو) په ځمکه کښی

**تفسیر:** یعنی د پخوانیو امتونو په ځای مو تاسی ته ځای درکړ چی اوس د هغو په مینو کښی ودان یئ ـ او وروسته له هغوی څخه تاسی حکومت او ریاست چلوی! نو ښائی چی د هغه د شکر ایستلو حق په ښه شان سره اداء کړئ!.

فَمَن كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُ ۖ وَلَا يَزِيدُ الْكَافِرِينَ كُفْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ إِلَّا مَقْتًا ۖ وَلَا يَزِيدُ الْكَافِرِينَ كُفْرُهُمْ إِلَّا خَسَارًا ﴿٣٩﴾

پس هر څوک چی کافر شو (یا ئی ناشکری وکړه) پس پر هغه دی (دغه) کفر (یا کفران) د ده او نه زیاتوی کافرانو ته کفر د دوی په نزد د رب د دوی مګر بی زاری غضب (د رب په دوی) او نه زیاتوی کافرانو لره کفر د دوی مګر خساره زیان (په آخرت کښی).

**تفسیر:** یعنی ستاسی له دغه کفره او ناشکری او د الله تعالیٰ له آیاتونو څخه له انکاره الله تعالیٰ ته هیڅ ضرر او نقصان نه رسیږی. الله زمونږ له حمده او شکره بی پروا دی. هو! له ناشکری څخه پر فاعل ئی د هغی ګناه او وبال لویږی د کفر آخره خاتمه ماسواء له دی نه بل هیڅ شی نه دی چی پاک الله له دغه ناشکره څخه بیزاره او نارضاء کیږی ـ او د دغه کافر په نقصان او

خسران کښې مسلسلاً او منظماً تزئید او ترقي واقع کیږي.

قُلْ أَرَءَيْتُمْ شُرَكَآءَكُمُ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ أَرُونِي مَاذَا خَلَقُوا مِنَ الْأَرْضِ أَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِي السَّمَٰوَٰتِ

ووایه (ای محمده! دوی ته) آیا وینئ تاسئ شریکان ستاسی هغه چی بلل به مو (او عبادت به مو کاوه د دوی) غیر له الله راوښیئ ماته چی کوم څیز پیدا کړی دی (دغو معبودانو ستاسی) له ځمکی څخه او که شته دوی ته (کوم قسم) شریکوالی په (پیدایښت د) آسمانونو کښې (له الله سره).

**تفسیر:** یعنی د خپلو معبودانو په احوالو کښې فکر وکړئ! او بیا ماته دغه خبره راخرگنده (ښکاره) کړئ چی د ځمکی کومه برخه دوی جوړه کړی ده یا د آسمانونو په جوړولو په ساتلو او اداره کولو کښې دوی څومره برخه او شرکت لري؟ که دوی په دغه کښې هیڅ برخه نه لري نو دوی څرنگه معبودان گرځیدلی دي؟ لږ شانی خو له عقل او پوهی او فکر او غور څخه هم کار واخلئ!

أَمْ ءَاتَيْنَٰهُمْ كِتَٰبًا فَهُمْ عَلَىٰ بَيِّنَتٍ مِّنْهُ

یا ورکړی دی مونږ دوی ته کتاب پس دوی پر پاخه حجت ولاړ دی له هغه کتابه (او دا یو هم نه دی).

**تفسیر:** یعنی که عقلی دلیل او سند نشته نو کوم هسی معتبر نقلی دلیل راوړاندی کړئ! چی د هغه په اساس تاسی دغه د شرک دعوی کوئ؟ دا یو هم نه دی!

بَلْ إِن يَعِدُ الظَّٰلِمُونَ بَعْضُهُم بَعْضًا إِلَّا غُرُورًا ﴿٤٠﴾

بلکه نه کوی وعده دا ظالمان (مشرکان) ځینی د دوی (چی غټان او مشران دی) ځینو نورو ته (چی خواران او کشران دی) مگر غره کول (او فریب ورکول).

**تفسیر:** یعني هیڅ عقلي یا نقلي دلیل نشته. خبره فقط هم دغومره ده چي په دوی کښې مشرانو کشرانو ته او پخوانیو وروستنیو ته د شیطان په لمسون او اغواء پرله پسې دغسې وعدې کړې او داسې خبرې ئې ورښوولې دي ﴿وَيَقُولُونَ هَٰؤُلَاءِ شُفَعَاؤُنَا عِندَ اللَّهِ﴾ هم دغه بتان او نور زمونږ شفاعتګران دي د الله تعالیٰ په نزد کښې ـ او د هغه قرب مونږ ته راعطاء کوي. حال دا چي دغه خالص چل ـ فریب ـ او غولول دي. دوی به څرنګه شفیع وګرځیدلي شي؟ حال دا چي ډیر لوی مقربین به هم د کفارو د شفاعت او سپارښت په موضوع کښې خپله ژبه نشي خوځولی.

إِنَّ اللَّهَ يُمْسِكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ أَن تَزُولَا ۚ وَلَئِن زَالَتَا إِنْ أَمْسَكَهُمَا مِنْ أَحَدٍ مِّن بَعْدِهِ ۚ

بیشکه الله ساتي (دغه) آسمانونه او ځمکه له دې نه چي زائل شي (او له خپله محوره بیځایه شي) او (قسم دی) که (بالفرض) مخ په زوال شي دا دواړه نو وبه نه ساتي (له زواله) دغه دواړه بل هیڅوک ماسواء له دغه (الله) نه،

**تفسیر:** یعني د الله تعالیٰ د قدرت لاس دی چي دومره لویو لویو عظامو کراتو ته ئې داسې تنظیم، تنسیق، ترتیب ورکړی دی چي هیڅ یو له دوی ځینې له خپلو مراکزو څخه نه ښوئیږي او نه له خپل مقام او نظام څخه یو طرف او بل طرف ته لږ تمایل او حرکت کوي او که بالفرض دغه شیان له خپلو ځایونو څخه بل کوم طرف ته نقل یا حرکت وکړي نو بیا له ماسواء الله څخه کوم یو زور او طاقت به وي چي هغه بیا بیرته خپل ځای ته راولي یا ئې تر خپل نظارت او انتظام او اداري لاندې ونیسي ؟ لکه چي په قیامت کښې کله چي الله تعالیٰ دغه نظام او قوام ګډوډ او تیت او پرک (منتشر) کړي نو کوم قوت به د ده مخه ونیسي؟.

إِنَّهُ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا ﴿٤١﴾

بیشکه دغه (الله) دی ښه تحمل والا (چي تعجیل نه کوي په تعذیب د منکرینو) ښه ښښونکی (د تائبانو).

**تفسیر:** یعني د خلقو د کفر او عصیان اقتضاء خو هم داسې ده چي دغه ګرد (تول) نظام یو ځلي ګډوډ او لاندې باندې کړی شي لیکن د الله تعالیٰ لطف ـ کرم حلم تحمل او بردباري دغه نظام تینګ پخپل قوام درولی او ساتلی دی که د الله تعالیٰ مرحمت ـ مکرمت ـ او ښښنه نه وي نو

دغه ودانه دنيا ورانيږي.

وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَئِن جَاءَهُمْ نَذِيرٌ لَّيَكُونُنَّ أَهْدَىٰ
مِنْ إِحْدَى الْأُمَمِ ۖ فَلَمَّا جَاءَهُمْ نَذِيرٌ مَّا زَادَهُمْ إِلَّا نُفُورًا ﴿٤٢﴾ اسْتِكْبَارًا
فِي الْأَرْضِ وَمَكْرَ السَّيِّئِ ۚ وَلَا يَحِيقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِ ۚ

او قسمونه به خوړل (كفارو د مكې) پر الله پر سختو قسمونو خپلو سره خامخا كه چيرې راغې دوى ته كوم ويرونكى (پيغمبر) خامخا وى به دوى هرومرو (خامخا) ښه لاره موندونكى له يوه (له تيرو) امتونو پس كله چې راغې دوى ته ويروونكى (چې محمد دى) نو زيات نه كړ (دغه راتګ) دوى ته مګر تيښته (له حقه). دپاره د لوى غوښتلو په ځمكه او (دپاره د) مكر بد (په رسول پورى چې هلاک ئې كړي) او نه چاپيره كيږي مكر فريب ناكاره مګر خو په اهل خپل (چه مكر كوونكى دى)

**تفسير:** كله چې د عربو اقوامو دغه قصې او خبرې اوريدلې چې يهودانو او نورو اقوامو د انبياء الله خبرى نه منلې او د دوى له احكامو څخه به ئې غاړې غړولې نو دوى به پخپلو منځونو كښې سره داسې ويلې «كه د الله تعالىٰ له فضله په مونږ كښې كوم نبى مبعوث شى، نو مونږ به د هغو عاصى اقوامو پر خلاف د خپل نبى په ډير ښه شان سره رفاقت، اطاعت او متابعت وكړو او د خپل اخلاص او صميميت يو ډيره ښه وضعيت به دنيا ته ورښكاره وو. خو څه وخت چې الله تعالىٰ دوى ته خپل داسې نبى مبعوث او وليږه چې له تولو انبياؤ څخه په عظمت او شان لوى دى نو له حقه څخه دوى لا لرې شول او غاړه ئې ترې وغړوله د دوى تكبر ـ غرور ـ لوئى دوى ته كله اجازه وركوى چې نبى الله صلى الله عليه وسلم په مخ كښې خپلې غاړې كيږدى او د رفاقت او اطاعت په ځاى ئې عداوت او مخالفت ته ملاوى تړلى دى او راز راز (قسم قسم) مكروه او نامناسبه تدابير ـ چلونه ـ فريبونه ئې شروع كړى دى مګر دغه خبره مو په ياد وى چې ناكاره كار او بدى چارى پخپله هم دغه د بدو كارونو او بدو عملونو عامل او فاعل ته عائد او راجع كيږى.

اګر كه دوى څو ورځې په عارضى ډول (طريقه) خپل زړونه خوښوى چې مونږ پخپل چل او تدبير سره دغسى ضرر او نقصان ورواړوه ليكن په پاى (آخر) كښې به دوى وګورى چې په واقع كښې ئې خپل ځان ته نقصان او زيان اړولى دى. فرض ئې كړئ چې په دنيا كښې ورته څه زيان او تاوان هم ونه رسيد مګر په آخرت كښې خو يقيناً پخپله سزا رسيږى.

فَهَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّا سُنَّتَ الْاَوَّلِيْنَ ۚ فَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّتِ اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ۚ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّتِ اللّٰهِ تَحْوِيْلًا ﴿۴۳﴾

پس آیا انتظار کوی دوی (یعني نه کوی) مګر طریقی (جاریي د الله ته په امتونو) پخوانیو کښې پس له سره به نه مومې ته سنت عادت د الله ته هیڅ تبدیل (اړول) او بیا به له سره نه مومې ته سنت عادت د الله ته هیڅ تحویل (ګرځول).

**تفسیر:** یعني دوی د دغې خبرې په انتظار کښې دي کومه معامله چې له پخوانیو مجرمینو سره شوې ده هم هغه معامله دې له مونږ سره هم وکړه شي. نو که دوی له خپل دغه کفره ـ شرکه ـ طغیانه او عصیانه لاس وانخیست هم هغسې معامله له دوی سره هم هرومرو (خامخا) کیدونکې ده. د الله تعالیٰ هغه سنت او دستور چې د مجرمینو د سزا ورکولو په نسبت له پخوا څخه جریان او ادامه لري هغه له سره بدلیدونکې او تغییر موندونکې نه دی او په خپل تاکلي (مقرر) وخت او نیته کښې خامخا رسیدونکې دی او هرګز داسې نه کیږي چې پر داسې مجرمینو به په آخرت کښې انعام او اکرام مبذول شي او له سره هغه لري کیدونکې نه ده چې له مجرم څخنې سزا لرې کړه شي یا غیر مجرم ته سزا ورکړه شي.

اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا فِى الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَكَانُوْٓا اَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً ۭ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعْجِزَهٗ مِنْ شَيْءٍ فِى السَّمٰوٰتِ وَلَا فِى الْاَرْضِ ۭ اِنَّهٗ كَانَ عَلِيْمًا قَدِيْرًا ﴿۴۴﴾

آیا نه دي ګرځیدلي (دغه کفار د مکې) په ځمکه (ملکونو) کښې پس چې ووینې (په دغو اوطانو کښې چې) څرنګه ؤ عاقبت آخره خاتمه د هغو کسانو چې پخوا له دوی نه (تیر شوي) دي او ؤ دوی ډیر سخت له دغو (کفارو) څخه له جهته د قوت او نه دی الله (داسې) چې عاجز ئې کړي کوم شی نه په آسمانونو کښې او نه په ځمکې کښې بیشکه چې الله دی ښه عالم (په احوال د مخلوقاتو) ښه قادر (په اجراء د ارادې خپلې).

**تفسیر:** یعنی لوی لوی زوروراو قوی مدعیان هم د الله له نیولو څخه ځان نشی خلاصولی لکه عاد او ثمود او نور. دغه خواران څه حیثیت لری؟ او څه شی دی؟ ښه وپوهیږی چې په آسمان او ځمکه کښی د هیڅ یو قوت او قدرت له لاسه دغه نه دی پوره چې الله تعالیٰ عاجز او ناتوان کړی شی. د الله تعالیٰ علم محیط او قدرت کامل دی بیا که معاذ الله عاجز او ناتوانه شی ـ نو له کومی خوا به وی؟.

وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ بِمَا كَسَبُوْا مَا تَرَكَ عَلٰى ظَهْرِهَا مِنْ دَآبَّةٍ

او که چیری نیولی وی الله دا خلق په سبب د هغو (بدو اعمالو) چې کوی ئې دوی نو نه به ئې پریښی وی پر شا د ځمکی هیڅ ژوندی خوځیدونکی تلونکی (په شامت د عاصیانو)

**تفسیر:** یعنی خلق چې دغه خطاوی او گناهونه کوی که د دوی پر هره یوه گناه او جزئی خطا نیولو شروع له سببه پوښتنه تری وکړه شی نو هیڅ یو جاندار او متنفس د ځمکی پر مخ کښی نه پاتی کیږی ـ نافرمان خو د خپلی نافرمانی له سببه په تباهی رسولی کیږی او کامل فرمان منونکی چې عادتاً دیر لږ هم وی د قلت له امله (وجی) راپورته کیږی ځکه چې د جهان نظام په داسی یو اصول او ترتیب سره قائم کړی شوی دی چې محض د څو معدودو انسانانو هستوگنه دلته خلاف الحکمت ده بیا کله چې د نورو انسانانو ژوندون او ودانی پاتی نشی نو حیوانات به د څه لپاره پریښودی شی ځکه چې د دوی وجود بلکه د گرد (تول) جهان موجودیت خو د هم دغه حضرت انسان دپاره دی.

وَّلٰكِنْ يُّؤَخِّرُهُمْ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ فَاِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِعِبَادِهٖ بَصِيْرًا ﴿٤٥﴾

ولیکن وروستی کوی (الله) دوی تر نیتی په نامه کړی شوی پوری کله چې راشی اجل (نیته) د دوی پس بیشکه چې الله دی پر بندگانو خپلو ښه لیدونکی بینا (نو وربه کړی دوی ته جزا سم له اعمالو د دوی).

**تفسیر:** یعنی تر یوه مقرر میعاد او معین حد پوری الله تعالیٰ مهلت ایښی دی چې پر هر جرم به ئې فوراً نه نیسی کله چې موعود وخت راشی نو په یاد ئې ولرئ چې گرد (تول) شیان د پاک الله تر نظر لاندی دی او د هیچا د یوی ذری په اندازه ښه یا بد عمل د ده له علمه نه دی بهر ـ

پس د هر یوه په نسبت سم له خپل محیط علم سره ډیری ښی ښی فیصلی صادروی نه به مجرم چیری پټیدی شی ـ او نه به د مطیع له حقه سترګی پټیږی.

**«اللّٰهم اجعلنا ممن یطیعک واغفرلنا ذنوبنا انک انت الغفور الرحیم»**
**تمت سورة فاطر بعون الله الملک القادر فالحمدلله والشکرله**

سورة یٰسٓ مکیة الاآیة (٤٥) فمدنیة وهی ثلث وثمانون آیة وخمس رکوعات رقمها (۳٦)
تسلسلهاحسب النزول (٤١) نزلت بعد سورة الجن
د «یاسین» سورت مکی دی. پرته (علاوه) له (٤٥) آیته چی مدنی دی (۸۳) آیتونه (٥) رکوع لری
په تلاوت کښی (۳٦) او په نزول کښی (٤١) سورت دی وروسته د الجن له سورت څخه نازل شوی دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ○

(شروع) کوم، په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

یٰسٓ ۝١ وَالْقُرْاٰنِ الْحَکِیْمِ ۝٢ اِنَّکَ لَمِنَ الْمُرْسَلِیْنَ ۝٣ عَلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ ۝٤

قسم دی په دغه قرآن محکم (حکم کوونکی په حق خاوند د حکمت) باندی چی بیشکه ته (ای محمده!) خامخا له (هغو) رسولانو څخه ئی (چی لیږلی شوی دی خلقو ته) پر سمه لاره (یا ته ئی روان پر سمه لاره چی توحید دی).

**تفسیر:** یعنی لوی قرآن پخپل اعجازی شان ـ ډک له حکمته تعلیماتو ـ پخو مضامینو په لحاظ د دی خبری ډیر لوی زبردست شاهد دی چی هغه نبی الامی چی د دغه پاک قرآن حامل دی بالیقین د الله تعالیٰ رسول دی او بی له شکه او شبهی پر سمه لاره دی او د دوی ګرد (تول) تابعان بی له کومی اندیښنی او خطری د مقصود تر منزل پوری رسیږی او نه بی لاری کیږی.

تَنْزِیْلَ الْعَزِیْزِ الرَّحِیْمِ ۝٥

نازل شوی دی (تاته دغه قرآن په نازلیدلو) د زبردست رحم والا.

**تفسیر:** یعنی دغه د دین سمه لاره، یا قرآن الحکیم د هغه الله تعالیٰ له جانبه نازل شوی دی چی داسی یو لوی زبردست ذات هم دی چی هرومرو (خامخا) منکرانو ته سزا ورکوی او داسی رحمٰن رحیم مهربانی کوونکی ذات هم دی چی امر منونکیو او مطیعانو ته خامخا پخپل بخشش او مهربانئ سره انعام او اکرام ورکوی نو له هم دی جهته په قرانی آیاتو کښی بعضاً د لطف ـ رحم ـ او کرم شان عیان دی ـ او بعضاً د قهر ـ غضب ـ تهدید او تخویف شان بیان شوی دی.

لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّآ اُنْذِرَ اٰبَآؤُهُمْ فَهُمْ غٰفِلُوْنَ ﴿٦﴾ لَقَدْ حَقَّ الْقَوْلُ عَلٰٓى اَكْثَرِهِمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٧﴾

دپاره د دی چی وویروی ته هغه قوم چی نه وو ویرولی شوی پلرونه د دوی (تر اسماعیل پوری) پس دوی غافلان دی (له توحیده) خامخا په تحقیق حقه ثابته شوی خبره (د عذاب) پر اکثرو د دوی (په ازل کښی) پس دوی نه راوړی ایمان

**تفسیر:** یعنی ډیر سخت او مشکل کار تاسی ته درسپارلی شوی دی چی دغه عربی قوم ئی د دی پاک قرآن په وسیله ویښ او هښیار ـ او د نورو اقوامو مقتداء او بادار (آقا) وګرځوه حال دا چی دغو عربو ته له سلهاؤ کلونو راهیسی کوم ویښوونکی او پوهوونکی نه دی راغلی ـ نو د دغسی یو غافل، جاهل او عاطل قوم چی نه له الله جل جلاله څخه خبر دی، او نه آخرت پیژنی ـ نه له ماضی څخه ئی عبرت اخیستی دی او نه د مستقبل په فکر کښی دی نه پر مبداء نظر غورځوی ـ او نه پر منتهاء ـ او نه د ښو او د بدو تمیز لری ـ او نه د اصلاح او افساد شعور په دوی کښی شته. د دغی ممتد جهالت او غفلت له تیارو څخه د هدایت او اسلامیت رڼا (رڼرا) ته ایستل او د رشد، هدایت او صلاحیت پر سمه لویه لاره باندی برابرول کوم معمولی او سهل کار نه دی بلاشبهه تاسی په پوره قوت او قدرت او فعالیت سره دوی د دغه غفلت او جهالت د ویرروونکیو نتائجو او ډیر خراب مستقبل څخه خبروئ او ویروئ ئی ـ او زیار (کوشش) کوئ او ربړ (تکلیف) برداشت کوئ څو دغه قوم د فوز او فلاح او بهبود او نجاح اعلیٰ مدارجو (درجو) ته ورسیږی او د دغه قوم د برې او کامیابی په وسیله د جهان نورو انسانانو ته هم د فلاح او نجاح لار وښیی لیکن تاسی له داسی ډیرو افرادو سره مخامخ کیدونکی یئ چی هغوی به هیڅ قسم پند او نصیحت ته غوږ نه ږدی نو ځکه پر دوی باندی شیطان په پوره ډول (طریقه) سره

مسلط کيږي او په دغه وسيله سره د دوی حماقتونه او شرارتونه د دوی په نظر کښې ډير ښکلي او ښائسته ښکاره کوي او د دوی ګرد (تول) ږومبني او وروستني احوال اګر که ډير ګنده او خراب هم وي د دوی تر سترګو ښه او موزون ورښکاره کوي بالاخر دغه خلق له بل ژوندون څخه بالکل منکريږي. او هم هغه فاني غوښتني د خپل مقصود قبله ګرځوي په دغه وخت کښې له يوه جانبه د شيطان دغه خبره ﴿ لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ ﴾ – ماسواء له مخلصانو نور ګرد (تول) به بي لاری کړم» رښتيا کيږي او له بل طرفه د الله تعالیٰ دغه قول « ﴿ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكَ وَمِمَّن تَبِعَكَ مِنْهُمْ أَجْمَعِينَ ﴾ – له ستا او ستا له تابعانو څخه به دوزخ ډک کړم» ثابت او منطبق کيږي باقي د الله تعالیٰ په علم کښې دغه خبره له ازله ثابته ده چي د هغه قوم دغه افراد خپلې بي تميزی او بي پروائي د شيطان په اغواء کښې اخته کيږي او د الله تعالیٰ د عذاب مستحق ګرځي نو له داسي خلقو څخه دغسي هيله (اميد) او توقع نه کيږي چي دوی به په سمه لاره راشي نو که تاسي ته د انذار او اصلاح په سلسله کښې له داسي همت او حوصله ماتوونکو واقعاتو سره مقابله واقع شي نو مه خفه او مه ملول کيږئ! او په ډير ښه شان سره خپله وظيفه انجاموئ! او نتائج ئې پاک الله ته وسپارئ! د پاس تقرير د پوهيدلو دپاره ښائي دغه آيات تر نظر لاندی ونيسی!

الف – ﴿ وَمَن يَعْشُ عَن ذِكْرِ الرَّحْمَٰنِ نُقَيِّضْ لَهُ شَيْطَانًا فَهُوَ لَهُ قَرِينٌ وَإِنَّهُمْ لَيَصُدُّونَهُمْ عَنِ السَّبِيلِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُم مُّهْتَدُونَ ﴾ جزء ٢٥ (د الزخرف (٤) رکوع) ٣٦-٣٧ آيت معلوم شو چي شيطان ابتدأ پر چا باندی نه مسلط کيږي بلکه څه وخت چي انسان په لوی لاس خپل ځان ړندوی او له پند او نصيحت او عبادت څخه اعراض او په څنګ کيږي نو بالاثر پري شيطان مسلط کيږي لکه چي انسان تر يوی مودی پوری له خپلو لاسو او پښو څخه هيڅ کار وانخلي نو بالطبع هغه غونج او مونج او معطل او بيکاره کيږي کما قال الله تعالیٰ ﴿ فَلَمَّا زَاغُوا أَزَاغَ اللَّهُ قُلُوبَهُمْ ﴾ جزء ٢٨ د الصف (١) رکوع ٥ آيت ﴿ وَنُقَلِّبُ أَفْئِدَتَهُمْ وَأَبْصَارَهُمْ كَمَا لَمْ يُؤْمِنُوا بِهِ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَنَذَرُهُمْ فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴾ (د الانعام (١٣) رکوع) جزء ٧

ب – ﴿ وَقَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَاءَ فَزَيَّنُوا لَهُم مَّا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَحَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ فِي أُمَمٍ ﴾ جزء ٢٤ (د حٰمٓ السجدة (٣) رکوع). ٢٥ آيت

وروسته له تسلط شيطان دغه کار کوي چي د هغه نتيجه ﴿ حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ ﴾ دی.

ج – ﴿ وَالَّذِي قَالَ لِوَالِدَيْهِ أُفٍّ لَّكُمَا أَتَعِدَانِنِي أَنْ أُخْرَجَ وَقَدْ خَلَتِ الْقُرُونُ مِن قَبْلِي وَهُمَا يَسْتَغِيثَانِ اللَّهَ وَيْلَكَ آمِنْ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ فَيَقُولُ مَا هَٰذَا إِلَّا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ فِي أُمَمٍ ﴾ جزء ٢٦ (د الاحقاف (٢) رکوع) ١٧-١٨ آيت

له دغو آياتونو څخه معلوم شو چي د ﴿ حَقَّ الْقَوْلُ ﴾ لفظ پر دغو خلقو صادق راځي چي وروسته له مرګه پر بل کوم ژوندون يقين او باور نه لري او نه بدی بده ګني. بلکه په شيطاني اغواء او لمسون خپل بد کارونه ښه او نيک ګني او ضلالت ورته هدايت ښکاري. هومره معقولي او مدلولي خبری او دلايل چي دوی ته واورولي شي او واضح او ښکاره دلايل چي دوی ته وښوولي شي هغه

گرد (تول) دروغجنوی او نه یی منی او د هغو په نسبت چتی (بیکاره) دلایل او فضول حجتونه وړاندی کوی. اگر که دوی په ښکاره ډول (طریقه) سره د انبیاؤ او هادیانو خبرو ته غوږ ږدی مگر نه غواړی چی په یوه حرف ئی پوهیږی یا خپل ځان پری وپوهوی او تش هوا او هوس ئی خپل معبود درولی دی. نه له عقله او فکره کار اخلی او نه پخپلو سترگو سره د قدرت مظاهرو او مناظرو ته گوری. دا هم هغه خلق دی چی د دوی د دغه اعراض او عناد په نتیجه بالاخر الله تعالیٰ د دوی پر زړونو مهر لگوی ـ او بیا په هغو کښی د حقی خبری د ننوتلو لږ شانی هم ځای او گنجایش نه پاتی کیږی. لکه چی کوم سری پر خپل ځان د رڼا (رنړا) او د نور ننوتلو گرد (تول) وروته او کړکی وتړی او په توره تیاره کوته کښی خپل ځان بندی کړی نو الله تعالیٰ هم په هغه توره تیاره کوته کښی پریږدی. یا یو رنځور د دواء د نه استعمالولو قسم وخوری یا له طبیب او ډاکتر سره عناد او دښمنی وکړی ـ او په هر ډول (طریقه) بد پرهیزی او بی احتیاطی لاس پوری کړی نو الله تعالیٰ هم د هغه مرض سخت او مهلک گرځوی او د ناامیدی او مایوسی تر درجی پوری ئی رسوی. فرمائی! چی ﴿تلك القرى نقص عليك من انبائها ولقد جاءتهم رسلهم بالبينت فما كانوا ليؤمنوا بما كذبوا من قبل كذلك يطبع الله على قلوب الكفرين﴾
(د اعراف (۱۳) رکوع) ۱۰۱ آیت ﴿ثم بعثنا من بعده رسلا الى قومهم فجاءوهم بالبينت فما كانوا ليؤمنوا بما كذبوا به من قبل كذلك نطبع على قلوب المعتدين﴾ جزء ۱۱ (د یونس (۸) رکوع) ۷٤ آیت ﴿ولقد ضربنا للناس في هذا القرءان من كل مثل ولئن جئتهم باية ليقولن الذين كفروا ان انتم الا مبطلون كذلك يطبع الله على قلوب الذين لا يعلمون فاصبر ان وعد الله حق﴾ جزء ۲۱ (د روم (٦) رکوع) ۵۸ـ۵۹ـ٦۰ آیت ﴿كذلك يضل الله من هو مسرف مرتاب الذين يجادلون في ايت الله بغير سلطن اتهم كبر مقتا عند الله وعند الذين امنوا كذلك يطبع الله على كل قلب متكبر جبار﴾ جزء ۲٤ (د المؤمن (٤) رکوع) ۳٤ـ۳۵ آیت ﴿ومنهم من يستمع اليك حتى اذا خرجوا من عندك قالوا للذين اوتوا العلم ماذا قال انفا اولئك الذين طبع الله على قلوبهم﴾ جزء ۲٦ (د محمد (۲) رکوع) ۱٦ آیت ﴿بل طبع الله عليها بكفرهم فلا يؤمنون الا قليلا﴾ (د نساء (۲۲) رکوع) ۱۵۵ آیت ﴿كلا بل ران على قلوبهم ما كانوا يكسبون﴾ (د المطففین (۱) رکوع) ۱٤ آیت ﴿افرءيت من اتخذ الهه هوىه واضله الله على علم وختم على سمعه وقلبه وجعل على بصره غشوة فمن يهديه من بعد الله﴾ (د الجاثیة (۳) رکوع) ۲۳ آیت ﴿ولقد ذرأنا لجهنم كثيرا من الجن والانس لهم قلوب لا يفقهون بها ولهم اعين لا يبصرون بها ولهم اذان لا يسمعون بها اولئك كالانعام بل هم اضل اولئك هم الغفلون﴾ جزء ۹ د الاعراف (۲۲) رکوع) ۱۷۹ آیت ﴿يحرفون الكلم من بعد مواضعه يقولون ان اوتيتم هذا فخذوه وان لم تؤتوه فاحذروا ومن يرد الله فتنته فلن تملك له من الله شيئا اولئك الذين لم يرد الله ان يطهر قلوبهم﴾ جزء ٦ (د المائدة (٦) رکوع) ٤۱ آیت .

إِنَّا جَعَلْنَا فِي أَعْنَاقِهِمْ أَغْلَالًا فَهِيَ إِلَى الْأَذْقَانِ فَهُم مُّقْمَحُونَ ⑧

بیشکه مونږ ګرځولي مو دي په غاړو د دوی کښې طوقونه پس دغه (طوقونه رسیدلي دي) تر زنو د دوی پوري پس دوی جګ (وچت) سري کړي شوی دي (چې له سره ښکته نشي کتلی او لاتک خوری).

**تفسیر:** دغه د هم هغو خلقو په حق کښې دي چې د دوی ذکر پاس تیر شو. دغه غاړکی د عاداتو ـ رسومو ـ د جاه او مال حب ـ او د آباؤ او اجدادو تقلید ؤ چې دغو شیانو دوی له ستونیو (مرو) ځخه سخت نیولي وو او د نخوت او تکبر لامله (له وجې) د دوی سرونه نه راښکته کیدل.

وَجَعَلْنَا مِن بَيْنِ أَيْدِيهِمْ سَدًّا وَمِنْ خَلْفِهِمْ سَدًّا فَأَغْشَيْنَاهُمْ فَهُمْ لَا يُبْصِرُونَ ⑨

او ګرځولي مو دي په مخ د دوی کښې سد دیوال او له وروسته د دوی سد دیوال پس پټي کړي مو دي (سترګی د دوی) پس دوی هیڅ نه ويني.

**تفسیر:** د نبي الله عداوت د دوی او د هدایت قبلولو په منځ کښې لوی دیوالونه درولي ؤ ـ دوی د جاهلانه ؤ رسومو اطوارو ـ عاداتو ـ او د فاسدو آراؤ په تیارو کښې داسې بند ؤ چې وړاندی ـ وروسته ـ هسک (اوچت) او تیت هیڅ د دوی په نظر کښې نه ښکاریده ـ نه به ئې ماضي ته کتل او نه به ئې مستقبل ته. باقي د دوی د افعالو نسبت الله تعالیٰ ته د دي دپاره کړی شوی دی چې د خیر او شر خالق هم هغه دی. او پر اسبابو د مسبباتو ترتب د الله تعالیٰ په اراده او مشیت سره کیږی. زمونږ لوی عالم فخرالدین رازی فرمائی «په دغه آیت سره په آفاقیه ؤ دلایلو کښې د دوی د غور کولو نفي وشوه لکه چې په ﴿فَهُم مُّقْمَحُونَ﴾ کښې د انفسیه ؤ دلائلو په طرف د دوی د نه ملتفت کیدلو اشاره وه ځکه څه وخت چې سر د پاس په لوری لاتک ووهي او وخوځیږی او د ښکته په طرف متمائل نشي نو څرنګه پر خپل ځان او بدن به نظر وغورځولی شي»؟.

وَسَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ⑩

او برابر دي پر دوی باندي چې وویروی ته دوی (له عذابه) یا ونه ویروی ته

دوی (خو دوی) ایمان نه راوړی (ځکه چې مقرر دی په ازل کښې مرګ د دوی په کفر سره).

**تفسیر:** دوی ته برابر دی لیکن ستاسې په حق کښې برابر نه دی بلکه داسې سخت معاند او سرکش قوم ته نصیحت کول او د دوی په اصلاح پسې لویدل د عظیمه ؤ درجاتو د حصول سبب دی او کله هم دغه ښه اخلاق د نورو د هدایت باعث ګرځي. هم داسې آیت د البقرة په (۱) رکوع کښې هم تیر شوی دی.

إِنَّمَا تُنذِرُ مَنِ اتَّبَعَ الذِّكْرَ وَخَشِيَ الرَّحْمَٰنَ بِالْغَيْبِ ۖ فَبَشِّرْهُ بِمَغْفِرَةٍ وَأَجْرٍ كَرِيمٍ ﴿١١﴾

بیشکه هم دا خبره ده چې ویروی ته هر هغه چې متابعت کوی د پند (د قرآن) او ویریږی له رحمٰن ځخه په غیب (بې د لیدلو) پس زیری ورکړه (ای محمده) هغه ته په مغفرت ښښنې سره او په اجر لوی (د جنت سره)

**تفسیر:** یعنی زما د ویرولو فائده د هم هغه په حق کښې ظاهریږی چې نصیحت ومنی او پر هغه عمل وکړی او د الله تعالیٰ ویره د ده په زړه کښې وی هر هغه چاسره چې بیخی د الله تعالیٰ ویره نه وی نو هغه نه د پند او نصیحت څه پروا کوی او نه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له تنبیه او تذکیر ځخه څه ګټه (نفعه) او فائده اخیستې شی دغسې خلقو ته د مغفرت او عزت په ځای ذلت ور په برخه کیږی. وروسته اشاره فرمائی چې د فریقینو د دغه عزت او ذلت پوره اظهار د ژوندانه په بله دوره کښې کیږی چې د هغه مبادی وروسته له موته شروع کیږی.

إِنَّا نَحْنُ نُحْيِ الْمَوْتَىٰ

بیشکه مونږ هم دا مونږ به ژوندی کوو مړی (په قیامت کښې)

**تفسیر:** یعنی وروسته له موته د بل ژوندانه وجود حتمی او یقینی دی چې هلته به تول د خپلو اعمالو بدل ومومی او ښائی دغه لوری ته هم اشاره وی چې الله تعالیٰ پخپل قدرت د دغه عربی قوم هغه ګردی (تولی) مړی روحانی قواوی بیا ژوندی کولی شی څو د دغه روحانی قوت په مدد په دنیا کښې دیر لوی او عظیم الشان خدمات وکړی او راتلونکیو نسلونو ته خپل عظیمه آثار په یادګار پریږدی

وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوا وَآثَارَهُمْ

او ليكو مونږ هغه چې ومخكښې ليږلي دي دوى او (هغه) نښې (چې وروسته پاتې كيږي) له دوى

**تفسير:** يعني هغه نيک او بد اعمال چې له خپله ځانه ئې ړومبى ليږلي دي او د ځينو هغه اعمالو ښه يا بد اثرات يا نښې چې له خپله ځانه ئې وروسته پريښي دي مثلاً د كوم كتاب تصنيف يا د علومو ښوونه ـ يا د عمارت ودانې ـ يا د كوم رسم اساس كيښودل ـ اعم له دې چې ښه وي يا بد دغه ټول په دې كښې داخل دي بلكه د الفاظو په عموم كښې د اقدامو هغه نښې هم شاملې دي چې د كوم عبادت په طرف د تللو په وخت كښې پر ځمكه لوېږي لكه چې په ځينو صحيحؤ احاديثو كښې تصريح ده «ديارکم تكتب آثاركم».

وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ فِي إِمَامٍ مُبِينٍ ﴿١٢﴾

او هر شى شميرلى دى مونږ هغه په اصل ښكاره (لوح محفوظ كښې).

**تفسير:** يعني څرنګه چې ټول اعمال او آثار وروسته له وقوعه سم له خپلې ضابطې سره ليكلې كيږي پخوا له وقوعه هم هر څيز په لوح محفوظ كښې ليكلى شوى دى او هغه ليكل هم د انتظامي ضوابطو او مصالحو پر بناء دي كه نه د الله جل جلاله په قديم علم كښې هر وړوكى او لوى شى لا له پخوا څخه موجود او حاضر دى چې سم له هغه سره په لوح محفوظ كښې نقلولې شي.

وَاضْرِبْ لَهُمْ مَثَلًا أَصْحَابَ الْقَرْيَةِ

او بيان كړه (اى محمده!) دغو كفارو ته يو مثل د اوسيدونكيو د كلي (د انطاكيې)

**تفسير:** دغه كلي د اكثرو په نزد د (انطاكيې) ښار دى او د «بائيبيل» په كتاب الاعمال په (٨) او (١١) باب كښې په يوه قصه كښې چې له هم دې قصې سره مشابه ده سره له څه تفاوت د (انطاكيې) د ښار بيان شوى دى ليكن ابن كثير رحمة الله عليه له تاريخي حيثيت او د قرآن د سياق په لحاظ پر دغه څه اعتراضات كړي دي. كه هغه صحيح وى نو ښائى چې بل كوم كلي

تری مراد شی. والله اعلم. د دغی قصی ذکر مؤمنینو ته بشارت او د مکذبینو دپاره عبرت دی.

إِذْ جَآءَهَا الْمُرْسَلُونَ ﴿۱۳﴾

کله چی راغلل هغی ته مرسلان استاځی

**تفسیر:** د دغو نومونو صحیح تعیین نشی کیدی او نه په یقینی ډول (طریقه) سره دغسی ویلی شی چی هغوی به بلا واسطه د الله تعالیٰ رسولان وو یا د کوم نبی په واسطه دوی ماموران شوی ؤ څو د ده په نیابت هغه کلی ته لاړ شی. دغه دواړه احتماله په کښی شته. اګر که متبادر هم دغه دی چی ګوندی دوی پخپله انبیاء وی. ممکن دی چی له حضرت مسیح علیه السلام څخه به وړاندی دوی مبعوث شوی وی. بعضی وائی چی دغه د عیسیٰ علیه السلام استاځی ؤ چی د الله جل جلاله په امر لیږلی شوی ؤ

إِذْ أَرْسَلْنَآ إِلَيْهِمُ اثْنَيْنِ فَكَذَّبُوهُمَا فَعَزَّزْنَا بِثَالِثٍ فَقَالُوٓا إِنَّآ إِلَيْكُم مُّرْسَلُونَ ﴿۱۴﴾

کله چی ولیږل مونږ دوی ته دوه (استاځی) پس تکذیب وکړ دوی د هغو دواړو پس عزت ورکړ مونږ (او قوت دوی ته) په دریم سره پس وویل دوی بیشکه مونږ تاسی ته مرسلان استاځی یو (له طرفه د عیسیٰ)

**تفسیر:** یعنی ړومبی دوه تنه لاړل ـ بیا د دوی د تائید دپاره دریم هم ولیږل شو ـ دوی دری واړه سره یو ځای شول او داسی ئی وویل چی مونږ خو په خپل سر نه یو راغلی بلکه د الله تعالیٰ استاځی یو لهٰذا هر هغه شی چی مونږ ئی وایو هغه د الله تعالیٰ پیغام وګڼئ؟

قَالُوا مَآ أَنتُمْ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا وَمَآ أَنزَلَ الرَّحْمَٰنُ مِن شَيْءٍ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا تَكْذِبُونَ ﴿۱۵﴾

وویل (انطاکیانو دغو استاځیو ته) نه ئی تاسی مګر انسانان په شان زمونږ او نه دی رالیږلی رحمٰن هیڅ شی (نه وحی او نه رسالت) نه ئی تاسی مګر دروغ

وائی (په دغی دعوی).

**تفسیر:** یعنی له تاسی سره خو د عنقا یا د سیمرغ بنه نشته چی تاسی د الله تعالیٰ انبیاء شوی تاسی خو په هیڅ شی کښی له مونږ ځخه څه توپیر(فرق) او امتیاز نه لرئ نو بس کړی! خامخا داسی چتی (بیکاره) او چپوله (فضول) خبری مه کوئ! او بی سببه د الله نوم مه اخلئ! له سره الله هیڅ شی نه دی رالیږلی. فقط تاسی دری واړه پخپلو منځ کښی سره جوړه او دغه خبره مو غوته کړی ده، چی راځئ یوه داسی د دروغو خبره له خپله ځانه وتړو او بیا د هغی نسبت الله ته وکړو.

قَالُوْا رَبُّنَا يَعْلَمُ إِنَّآ إِلَيْكُمْ لَمُرْسَلُوْنَ ﴿۱٦﴾

وویل (استاځیو) رب زمونږ ته معلوم دی (دا چی) بیشکه مونږ تاسی ته خامخا درلیږلی شوی یو.

**تفسیر:** یعنی که مونږ پر الله تعالیٰ دروغ وتړو هغه خو مو وینی نو آیا الله جل جلاله به پخپل فعل سره د دروغجنانو پرله پسی تصدیق او تائید کوی ؟ داسی له سره نشی کیدی اوس تاسی پوهیږئ که نه پوهیږئ الله تعالیٰ ته دغه خبره ښه معلومه ده چی مونږ پخپلی دغی دعوی کښی رښتینی یو او هیڅ یوه خبره له خپله ځانه نه وایو نو ځکه فعلاً هغه زمونږ تصدیق فرمائی.

وَمَا عَلَيْنَآ إِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۱۷﴾

او نشته پر مونږ مګر (پیغام) رسوونه ښکاره (سره له معجزاتو).

**تفسیر:** یعنی مونږ خپله فریضه اداء کړی ده، د الله تعالیٰ پیغام مو په ښه واضح او ښکاره صورت تاسی ته رسولی دی او په ښو معقولو دلائلو او په زړه پوری طریقو مو تاسی پخپل خیر او شر پوهولی یئ اوس وروسته د حجت له اتمامه تاسی پخپله غور او دقت وکړئ چی د تکذیب او عداوت انجام او عاقبت به څرنګه وی؟

قَالُوْٓا إِنَّا تَطَيَّرْنَا بِكُمْ ۚ لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهُوْا لَنَرْجُمَنَّكُمْ
وَلَيَمَسَّنَّكُمْ مِّنَّا عَذَابٌ أَلِيْمٌ ﴿۱۸﴾

وويل (انطاكيانو) بيشكه مونږ بدفالي مو نيولي ده په تاسي (چي بند والي د باران دی) قسم دی که منع نه شوئ (له دعوی د دغه رسالته خپل) خامخا سنگسار به کړو مونږ هرومرو (خامخا) تاسي او خامخا وبه رسيږی هرومرو (خامخا) تاسي ته له طرفه زمونږ عذاب دردناک.

**تفسير:** ممکن چی د مرسلينو د تکذيب او د کفر او عناد له شامته به پر دوی قحط او نور بليات نازل شوی وی يا د انبياؤ د ښوونی په اثر د دوی په منځ کښی بيلتون واقع او بيا دوی به خپلو منځو کښی سره اختلاف وکړ څه ئی ومنل او څه ئی ونه منل او د نامبارکی نسبت ئی دوی ته وکړ يعنی ستاسی د قدمونو له شامته پر مونږ د قحط او بی اتفاقی او مصيبت بلاء نازله شوی ده دغه گرد (تول) ستاسی له نحوست دی (العياذبالله) که نه مونږ پخوا له دی نه ښه ماړه وو او په اطمينان او سکون مو ژوندون کاوه. بس کړئ! او وروسته له دی نه مو په خپلو دی مواعظو او نصائحو سره مه ربړوی (تکليفوئ)! او غوږونه مو مه کنوئ! که تاسی له خپل دغه وضعيت څخه لاس وانخيست! او له خپلو مواعظو او نصائحو څخنی مو خوله ونه نيوله نو مونږ به سخت تکليف او عذاب تاسی ته دروررسوو او تاسی به تر هغه پوری په گټو سره وولو تر څو چی مړه شئ.

قَالُوا طَائِرُكُم مَّعَكُمْ أَئِن ذُكِّرْتُم بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ ﴿١٩﴾

وويل (استائحيو) چی بدفالی ستاسی له تاسی سره ده (چی دغه کفر دی) آيا نو که پند درکړ شی تاسی ته (نو دغه ته بدفالی وايي نه ده داسی) بلکه تاسی يو قوم يئ مسرفان د انصاف له حده تيريدونکی.

**تفسير:** يعنی ستاسی د کفر او تکذيب له شامته عذاب نازل شوی دی که تاسی گردو (تولو) متحداً او متفقاً حق او صداقت منلی وی نو نه به دغه مذموم اختلاف او تفرقه ستاسی په منځ کښی پيدا کيده او نه به په دی شان په آفاتو او بلياتو مبتلا او اخته کيدی پس د نامبارکی او نحوست اسباب پخپله په تاسی کښی موجود دی نو بيا ولی په دغومره يوه خبره چی مونږ تاسی ته ښه نصائح او پوهنه درورلاندی کړی ده او تاسی مو ستاسی پر خير او شر پوهولی يئ خپل نحوست زمونږ پر سر غورځوئ! او له وژلو څخه مو ويروئ! حقيقت دا دی چی تاسی د عقل او د انسانيت له حدوده بيخی وتلی يئ! نه خپله نفع او ضرر پخپل عقل سره معلومولی شئ! او نه د انسانيت خبری ستاسی له خولی څخه وځی!.

وَجَآءَ مِنۡ اَقۡصَا الۡمَدِيۡنَةِ رَجُلٌ يَّسۡعٰى

او راغی له لری طرفه د هغه ښار یو سړی (حبیب نجار) چی منډی ئی وهلی.

**تفسیر:** وائی چی د دغه صالح سړی نوم حبیب وو او د ښار په آخری برخه کښی په عبادت مشغول او لګیا ؤ او له حلاله کسبه به ئی روزی خوړه. دغی فطری صلاحیت ده ته وار او موقع ور نه کړه چی چپ او ساکت پاتی شی د دغی قصی د آوریدلو په اثر د استاځیو او د مرسلینو د تائید او حمایت او د مکذبینو د پوهولو او نصیحت دپاره په منډه او ډیره جلتی راغی - ولی چی دی وویرید نه چی اشقیاء د خپلو هغو ویرولو په اثر دغو مرسلینو او استاځیو ته څه ضرر او اذیت ورسوی. له دغه څخه معلومیږی چی د دغو مرسلینو د دعوت او تبلیغ اثر د دی ښار تر لری برخو پوری هم رسیدلی وو.

قَالَ يٰقَوۡمِ اتَّبِعُوا الۡمُرۡسَلِيۡنَ ۞ ۳۰ اتَّبِعُوۡا مَنۡ لَّا يَسۡـَٔلُكُمۡ اَجۡرًا وَّهُمۡ مُّهۡتَدُوۡنَ ۞ ۳۱

وویل (حبیب نجار) ای قومه زما متابعت وکړئ تاسی د مرسلانو استاځیو. متابعت وکړئ تاسی د هغه چا چی نه غواړی له تاسی څخه اجر بدل حال دا چی دوی پر سمه صافه لاره (د خیر او اصلاح) رهی (روان) دی.

**تفسیر:** یعنی دوی د الله تعالیٰ استاځی دی او د الله تعالیٰ پیغام ئی له خپل ځان سره راوړی دی کوم پند او نصیحت چی دوی تاسی ته کوی ښائی تاسی هغه ومنئ! او پری عمل وکړئ! وګورئ چی د دوی اخلاق - اعمال عادات او اطوار تول ښه دی. او بی غرضه د خیر غوښتنه کوی او څه معاوضه او مزدوری هم له تاسی څخه نه غواړی نو بیا ولی د داسی بی غرضو او پاکو بزرګانو متابعت او اطاعت ونه کړی شی؟ او د الله تعالیٰ هغه پیغام چی د دوی په ذریعه لیږلی شوی دی ولی ونه منلی شی!.

(نو دوی ورته وویل چی ته په دین د دوی ئی! نو هغه ورته داسی وویل چی)

وَمَالِيَ لَآ أَعۡبُدُ ٱلَّذِي فَطَرَنِي

او څه مانع ده ماته (بلکه نشته چې د زړه له صدقه) عبادت نه کوم د هغه (الله) چې پیدا کړی ئې یم زه

**تفسیر:** دا ئې اګر که خپل ځان ته ویلی دی مګر اصلي مقصود ئې دا دی چه نورو ته ئې واوروی یعنی پر تاسی څه شوی دی چه د هغه لوی الله تعالیٰ عبادت نه کوئ چې رب او خالق دی.

وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ﴿٢٢﴾

او خاص دغه (الله ته) بیولی کیږئ تاسی (په قیامت کښې نو ښائی تاسی هم د هم دغه الله عبادت وکړئ!)

**تفسیر:** یعنی داسی مه ګڼئ چه تاسی ئې عبث پیدا کړی یئ! او بیا ئې هم داسی سر خوشی او آزاد پریښی یئ؟ او بل هیڅ مقصود ستاسی له دغه پیدایښت څخه نشته. داسی نه دی بلکه تاسی وروسته له مرګه ګرد (تول) د الله تعالیٰ په حضور کښې حاضریږئ! نو ښائی چه لا اوس د هغې ورځې په تهیه او فکر کښې واوسئ!.

ءَأَتَّخِذُ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً إِن يُرِدۡنِ ٱلرَّحۡمَٰنُ بِضُرࣲّ لَّا تُغۡنِ عَنِّي شَفَٰعَتُهُمۡ شَيۡـࣰٔا وَلَا يُنقِذُونِ ﴿٢٣﴾ إِنِّيٓ إِذࣰا لَّفِي ضَلَٰلࣲ مُّبِينٍ ﴿٢٤﴾

آیا ونیسم (پیدا کړم) بې له الله نور معبودان که اراده وفرمائی ماته رحمٰن د ضرر رسولو نو دفعه به نه کړی له ما څخه شفاعت سپارښت د دوی هیڅ شی (له هغه ضرره) او نه به می خلاص کړی (په زور) بیشکه زه کله (چې نور معبودان ونیسم) خامخا په ګمراهی ښکاره کښې یم.

**تفسیر:** یعنی دغه څومره ښکاره او صریحه ګمراهی ده چې له هغه مهربان او مطلق قادر الله څخه مخ اړوئ او د داسی شیانو عبادت کوئ چې هغوی مو نه د پاک الله د نازل کړیو تکالیفو او ربړو (زحمتونو) څخه پخپله خلاصولی شی او نه مو په سپارښت سره تری بچ کولی شي.

إِنِّيٓ ءَامَنتُ بِرَبِّكُمْ فَٱسْمَعُونِ ﴿٢٥﴾

بیشکه زه چی یم ایمان می راوړی دی په رب ستاسی پس واورئ تاسی له مانه، (څو می شاهدان شی! په قیامت کښی)

**تفسیر:** یعنی په مجمع کښی بی له تردده او اندیښنی اعلان کوم چی ما پر واحد الله ایمان راوړی دی. دغه خبره دی ګرد (تول) سره واوری! شاید مرسلانو ته ئی د دی لامله (له وجی) اورولی وی څو د الله تعالیٰ په مخ کښی شهادت ورکړی. او قوم ته ئی دا شهادت ځکه اورولی وی چی د هغه د آوریدلو څخه متأثر شی ـ یا اقلاً د یوه مؤمن د ایمان د قوت د مشاهدی په طرف متوجه شی.

قِيلَ ٱدْخُلِ ٱلْجَنَّةَ

وویل شو (ورته چی څه) ننوځه جنت ته (نو داخل شو جنت ته او بی انتهاء نعمتونه ئی په کښی ولیدل)

**تفسیر:** یعنی علی‌الفور ده ته د جنت د ننوتلو فرمان ورکړ شو ـ نقل کوی چی قوم هغه په دیر ظلم، جفا او غټ زړه توب سره په شهادت ورسوه نو ځکه سم د لاسه د ده شهادت سره متصل حکم صادر شو چی دی دی فوراً په جنت کښی داخل شی ـ لکه چی د شهداؤ د ارواحو په نسبت له احادیثو څخه ثابت دی چی دوی پخوا له محشره په جنت کښی داخلیږی.

قَالَ يَٰلَيْتَ قَوْمِي يَعْلَمُونَ ﴿٢٦﴾ بِمَا غَفَرَ لِي رَبِّي وَجَعَلَنِي مِنَ ٱلْمُكْرَمِينَ ﴿٢٧﴾

وویل ده کاشکی چی دا قوم زما پوه شوی وی په دی چی مغفرت ببښنه وکړه ماته رب زما او وئی ګرځولمه زه له عزت ورکړیو شویو (په ادخال د جنت سره).

**تفسیر:** قوم له هغه سره دښمنی وکړه چی دی ئی وواژه مګر دی ورروسته د جنت له ننوتلو څخه

هم د قوم له خیر غوښتلو څخه بیفکره نشو ـ او وی ویل که زما قوم زما له حاله او له دغه انعام او اکرام څخه چی د الله تعالیٰ له لوری پر ما مبذول شوی دی خبریدلی نو هرومرو (خامخا) ئی ایمان راووړ.

وَمَآ اَنۡزَلۡنَا عَلٰى قَوۡمِهٖ مِنۡۢ بَعۡدِهٖ مِنۡ جُنۡدٍ مِّنَ السَّمَآءِ وَمَا كُنَّا مُنۡزِلِيۡنَ ﴿۲۸﴾ اِنۡ كَانَتۡ اِلَّا صَيۡحَةً وَّاحِدَةً فَاِذَا هُمۡ خٰمِدُوۡنَ ﴿۲۹﴾

او نه مو ؤ نازل کړی پر قوم د دغه (حبیب نجار) وروسته (له شهادته) د ده هیڅ لښکر له (جانبه د) آسمانه او نه وو مونږ نازلوونکی (د لښکر د ملائکو). نه ؤ دا عذاب (د دی قوم) مگر چغه وه یوه (د جبریل) پس ناڅاپه دوی مړه یخ کړخ پراته ؤ (لکه ایره د اور).

**تفسیر:** یعنی وروسته له هغه دغه قوم د کفر ـ ظلم او د مرسلینو د تکذیب په بدل هلاک کړل شول او د دوی د دغه اهلاک دپاره مزیدو ترتیباتو او اهتمامو ته دومره ضرورت پاتی نشو چی له آسمانه ورته پرښتی لیږلی کیدی او نه د الله تعالیٰ دغه عادت دی چی د اقوامو د اهلاک دپاره لوی افواج ولیږی که هسی د کوم خاص مصلحت دپاره ئی د پرښتو افواج لیږلی وی هغه بیله خبره ده په دغسی مواردو کښی د ډیرو لویو مدعیانو او اعیانو د سرولو او شخ یخ غورځولو دپاره یوه معمولی چغه کافی ده لکه چی د هم دغه قوم حال هم داسی شو چی پرښتی پر دوی یوه چغه ووهله او دوی گرد (تول) سره یو ځای همغلته مړه شول.

يٰحَسۡرَةً عَلَى الۡعِبَادِ ۚ مَا يَاۡتِيۡهِمۡ مِّنۡ رَّسُوۡلٍ اِلَّا كَانُوۡا بِهٖ يَسۡتَهۡزِءُوۡنَ ﴿۳۰﴾
اَلَمۡ يَرَوۡا كَمۡ اَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُمۡ مِّنَ الۡقُرُوۡنِ اَنَّهُمۡ اِلَيۡهِمۡ لَا يَرۡجِعُوۡنَ ﴿۳۱﴾

ای حسرت افسوس دی پر بندگانو (کافرانو) نه دی راغلی دوی ته هیڅ رسول مگر ؤ دوی چی په هغه پوری به ئی توکی مسخری کولی. آیا نه وینی (دغه کفار) چی څومره ډیر هلاک کړی دی مونږ پخوا له دوی نه له اهل د زمانی چی بیشکه هغه (هلاک کړی شوی) دوی ته بیرته نه راگرځی (دنیا ته

نو دوی پری ولی عبرت نه اخلی؟).

**تفسیر:** یعنی گوری او اوری چی په دنیا څومره اقوام او ملل له انبیاؤ سره د استهزاء او تمسخر په بدل هلاک او تباه شوی دی چی اوس د هغوی نوم او نښه هم د دنیا په مخ کښی نه ده پاتی نو هیڅ یو تن له هغوی څخه د دغی خبری توان او طاقت هم نه لری چی بیرته راشی. د عذاب په ژرنده کښی دوی ټول سره اوړه او دلده او برابر شوی دی خو دوی سره له هغه پند او عبرت نه اخلی او هر کله چی کوم نوی رسول دوی ته راځی نو دوی بیا په همغو تمسخرو او استهزاؤ او ټوکو مسخرو باندی لاس پوری کوی چی پخوانی کفار په هغه معتاد او د هغو په اثر پخپله سزا او هیداد (انجام) ورسیدل لکه چی نن له خاتم الانبیاء صلی الله علیه وسلم سره د معظمی مکی کفار هم داسی سلوک او معامله کوی .

وَاِنْ كُلٌّ لَّمَّا جَمِيْعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُوْنَ ﴿۳۲﴾

او نه دی دا گرد (خلائق) مگر ټول په نزد زموږ حاضر کړی شوی وی دپاره د جزاء (په قیامت کښی).

**تفسیر:** یعنی هغه خو د دنیا عذاب ؤ د آخرت سزا خو بیله ده داسی مه گڼئ کله چی هلاک شوئ نو بیا به بیرته زموږ په طرف نه راځی او گردی (تولی) خبری او قصی ختمی شوی. د گردو (تولو) مخلوقاتو رجوع او حضور د پاک الله په دربار کښی یو حتمی او ضروری امر دی او هلته به ټول مجرمین او منکرین بلا استثناء نیولی کیږی.

وَاٰيَةٌ لَّهُمُ الْاَرْضُ الْمَيْتَةُ ۖ اَحْيَيْنٰهَا وَاَخْرَجْنَا مِنْهَا حَبًّا فَمِنْهُ
يَاْكُلُوْنَ ﴿۳۳﴾ وَجَعَلْنَا فِيْهَا جَنّٰتٍ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ وَّفَجَّرْنَا
فِيْهَا مِنَ الْعُيُوْنِ ﴿۳۴﴾ لِيَاْكُلُوْا مِنْ ثَمَرِهٖ ۙ

او یو دلیل (د قدرت) دی دوی ته ځمکه مړه (وچه کلکه) چی ژوندی کړو موږ هغه (په اوبو سره) او راوباسو موږ له هغی ځمکی څخه دانی نو له ځینو د دغو (دانو) څخه خوری (خپل قوت پری کوی). او پیدا کړی مو دی په دغی ځمکی کښی باغونه له (هر قسمه د) خرماگانو او (له هر راز (قسم) کورو) انگورو او جاری کړی مو دی په دغی (ځمکی) کښی له چینو (د

اوبو) څخه دپاره د دی چی وخوری دوی له میوو د هغو (مذکوروؤ شیانو)

**تفسیر:** یعنی ښائی دوی ته داسی شبهه پیدا شوی وی چی پس له موته بیا به مونږ څرنګه ژوندی راپاڅولی کیږو؟ دغه په دی صورت وریوهوی څرنګه چی ځمکه وچه کلکه مره پرته وی نو بیا الله تعالیٰ ئی تکه شنه زرغونه او ژوندی کوی او په کښی راز راز (قسم قسم) ونی، ګلان، غلی، دانی، میوی، باغ، بهار او نور پیدا کوی چی تاسی ئی استعمالوئ هم داسی قیاس او اټکل وکړی چی په مړو ابدانو کښی هم الله تعالیٰ د حیات روح پو کوی په هر حال په دغی مړی ځمکی کښی دوی ته یوه داسی نښه او د قدرت دلیل شته چی په هغه کښی د غور او دقت کولو څخه بعث بعدالموت ـ د الله تعالیٰ وحدانیت او عظمت او انعام او احسان په ښه ډول (طریقه) سره پیژندل او پوهیدل کیږی.

**تنبیه:** په پاسنیو آیتونو کښی د ترهیب خوا ښکاره وه چی د الله تعالیٰ له عذابه ووېرېږئ! او د هدایت لاره ئی ځان ته اختیار کړئ! په دغو آیتونو کښی ئی د ترغیب صورت اختیار فرمایلی دی. یعنی د الله تعالیٰ نعمتونه په ښه شان سره وپیژنئ! او د الله شکر ګزاری ته متوجه شئ! او په دغه ښه وپوهیږئ هغه الله چی مړه ځمکه ژوندی کولی شی هغه که په ایمانی حیثیت سره یو مړ قوم هم ژوندی کړی نو هغه ته دغه کار هیڅ اشکال نه لری.

وَمَا عَمِلَتْهُ أَيْدِيهِمْ ۖ أَفَلَا يَشْكُرُونَ ﴿٣٥﴾

او نه دی پیدا کړی دغه (میوی) لاسونو د دوی آیا پس شکر نه وباسی دوی (په دغو نعماؤ د الله).

**تفسیر:** یعنی میوی او د ځمکی نور حاصلات د الله تعالیٰ په قدرت سره پیدا کیږی د دوی په لاسونو کښی داسی قدرت نشته چی د کورو یا کجورو (انګورو یا خرماؤ) یوه دانه هم پیدا کړی شی. سره له هغه محنت او تردد چی د یوه باغ په لګولو او روزنه کښی کیږی مګر د دغه باغ د میوو او حاصلاتو راوستل د الله تعالیٰ کار او د ده د قدرت په قبضه او اختیار کښی دی. او که په غور سره وکتل شی ټول هغه کارونه چی د انسانانو په سعی او کوښښ سره انجام مومی هغه هم فی‌الحقیقت د الله تعالیٰ په عطاء کړی شوی قدرت او قوت او مشیت او ارادی سره کیږی. لهٰذا په هر حیثیت سره د الله تعالیٰ شکر ایستل او احسان پیژندل واجب دی.

**تنبیه:** محقق مترجم رحمة الله علیه په ﴿وَمَا عَمِلَتْهُ أَيْدِيهِمْ﴾ کښی «ما» نافیه اخیستی ده. کماهو دأب اکثر المتأخرین ـ لیکن له اسلافو څخه عموماً د دغی «ما» موصوله توب نقل شوی دی چی د هغه تائید د ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه له قرأته چی په کښی «**ومماعملته ایدیهم**» دی کیږی.

سُبْحٰنَ الَّذِیْ خَلَقَ الْاَزْوَاجَ كُلَّهَا مِمَّا تُنْۢبِتُ الْاَرْضُ وَمِنْ اَنْفُسِهِمْ وَمِمَّا لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳٦﴾

پاکی ده (له هر عیبه) هغه الله ته چې پیدا کړی ئی دی دغه (تولی) جوړی (انواع اصناف) ټول له هغو څیزونو چې زرغونوی ئی ځمکه او له ځانونو د دوی (اولاد لمسی کروسی) او له هغو (مخلوقاتو) څخه چې دوی ئی نه پیژنی (د علویاتو او د سفلیاتو له عجائبو مخلوقاتو څخه).

**تفسیر:** یعنی په نباتاتو او انسانانو او په هغو نورو مخلوقاتو کښې چې لا له هغوی څخه خلق پوره نه دی خبر الله تعالیٰ جوړی پیدا کړی دی. اعم له دی نه چې دغه جوړه توب د تقابل له حیثیته وی لکه نر او ښځه (نر وماده) خواږه او تروه، تور او سپین، ورځ او شپه، رڼا (رڼرا) او تیاره. یا د تماثل له حیثیته وی لکه په یوه شان ـ یو رنګ، یو خوند میوی او د ځمکی نور محصولات او په یوه شکل او صورت سره دوه ساکښان (جاندار). په هر حال په مخلوقاتو کښې هیڅ یو داسی مخلوق نشته چې د هغه بل کوم مقابل او مماثل نه وی. ځکه چې مقابله یا مماثلت په هغو شیانو کښې کیدی شی چې په کومه درجه کښې فی الجمله اشتراک ولری. د خالق او مخلوق اشتراک په هیڅ یوه حقیقت ـ صورت او صفت کښې سره بیخی نشته.

وَاٰيَةٌ لَّهُمُ الَّيْلُ ۚۖ نَسْلَخُ مِنْهُ النَّهَارَ فَاِذَا هُمْ مُّظْلِمُوْنَ ﴿۳۷﴾ وَالشَّمْسُ تَجْرِیْ لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا ؕ

او یو دلیل (د قدرت د الله) دوی ته شپه ده چې راوباسو مونږ له هغی (شپی) څخه ورځ پس ناڅاپه دوی ننوتونکی وی په تیارو کښې او (بل دلیل د قدرت د الله دوی ته) لمر (دی چې) ځی پخپلی ټاکلی (مقرر) لاری باندی (یا خپل ځای ته)،

**تفسیر:** «سلخ» د حیوان پوستکی ایستلو ته وائی چې تری لاندی غوښه ئی ښکاره شی هم داسی وګڼئ د شپی په تیارو باندی د ورځی څادر هوار کړی شوی دی. څه وخت چې دغه د رڼا (رڼرا) څادر د دی له سره څخه لری کړ شی خلق په تیارو کښې پاتی کیږی وروسته له هغه لمر بیا په خپل همغه مقرر تګ سره په معین وخت راخیژی او ټول جهان او شیان رڼوی، د لیل او نهار پر

دغو تقلباتو قیاس او اټکل وکړئ او ښه وپوهیږئ چې الله تعالیٰ عالم هم داسې فناء کوی او بیا ئې د بقاء بل عالم ته انتقال او ژوندی راپاڅوی او بیشکه هم دغه الله تعالیٰ د عبادت وړ (قابل) او لایق دی چې د ده په قدرت کښې د دغو عظیم الشانو انقلاباتو واک اختیار او زمام دی چې له هغه څخه مونږ ته د مختلفو اقسامو فوائد رارسیږی. هغه مطلق قادر چې شپه په ورځې سره تبدیلوی نو له هغه څخه دغه خبره کله لرې او بعیده ده چې د رسالت د لمر په ذریعه دغه دنیا هم د جهالت له تیارو څخه وباسی او لرې ئې کړی. لیکن د شپې او ورځې او د لمر او قمر او د انجم د طلوع او غروب په شان هر کار پخپل وخت او نیته کیږی.

ذٰلِكَ تَقۡدِيۡرُ الۡعَزِيۡزِ الۡعَلِيۡمِؕ ﴿۳۸﴾

دغه (مخصوص حرکت د لمر حکم) اندازه ده د ښه غالب قوی (په انفاذ د احکامو) ښه دانا (پر هر څیز).

**تفسیر:** د لمر چال او لاره مقرره ده او دی پر هغې باندې منظم درومی یو بخرکی یوه ربه له هغې څخه وړاندی وروسته نشی کیدی پر همغه کار چې لګولی شوی دی تل تر تله به هم هغه کښې لګیا دی یوه شیبه هم په قرار او آرام نه دی د شپې او د ورځې چورلیدل او د کلنی تحویل په هر هر ځای کښې چې ښائی ورسیږی او مقرر مواسم او اوقات پیدا کړی په همغو ځایونو او مواسمو رسیږی بیا له هغه ځایه د الله تعالیٰ په حکم سره په بلې دوری باندې شروع کوی د قیامت تر قرب او قیام پوری هم دغه وضعیت دوام لری څو دغسې یو وقت راشی چې هلته د الله تعالیٰ له جانبه پر لمر داسې حکم صادریږی چې له همغه ځایه چه غروب شوی ئې بیرته راوخیژه! دغه هم دا وخت دی چې باب‌التوبه به ترل کیږی کما ورد فی‌الحدیث الصحیح. خبره دا ده چې د ده دغه د طلوع او غروب، د دغه ګرد (تول) نظام د هغه غالب، زبردست، علیم او خبیر ذات له جانبه قائم کړی شوی دی چې د ده انتظام او قوام بل هیڅوک نشی خرابولی او نه ئې ماتولی او نه د ده پر دغه حکمت او پوهنې څه تنقید او تبصره کولی شی دی هر وخت چې اراده وفرمائی او څرنګه چې مشیت وفرمائی په کښې تحویل او تبدیل او تعدیل کولی شی هیڅوک او هیڅ شی د ده د دغو اراداتو او مشیاتو په مقابل کښې له سره هیڅ تردد او انکار نشی کولی.

**تنبیه:** د دغه آیت په تفسیر کښې یو حدیث راغلی دی چې په هغه کښې د لمر په تحت العرش کښې د سجده کولو ذکر شته دلته د هغه د تشریح ځای نه دی په دغه مورد کښې دی زمونږ هغه مستقل مضمون ولوست شی چې د «**سجودالشمس**» تر عنوان لاندی چاپ شوی دی.

وَالۡقَمَرَ قَدَّرۡنٰهُ مَنَازِلَ حَتّٰى عَادَ كَالۡعُرۡجُوۡنِ الۡقَدِيۡمِ ﴿۳۹﴾

او سپوږمۍ ته اندازه کړی (او ویشلی) دی مونږ منزلونه تر هغه پوری چی وګرځی (په نظر کښی) لکه وچه څانګه د خرما (چه کلکه کږه، ژیړه او نرۍ شی).

**تفسیر:** یعنی د لمر په شان قمر تل په یوه وضعیت او هیئت نه دی بلکه هره ورځ تزئید یا تنقیص مومی الله تعالیٰ قمر ته (۲۸) منازل مقرر فرمایلی دی چی دی دغه منازل په یوه معین نظام سره درجه په درجه طی او پری کوی په ړومبنی آیت کښی د شپی بیان و، بیا د لمر بیان وشو چی تری د کلونو او مواسمو او فصلونو او شپو او ورځو ـ ګړی ـ (ساعت) شیبی ـ (دقیقی) ربی (ثانیی) اوقات تشکیل کیږی. اوس د سپوږمۍ تذکره فرمائی چی د هغی په نقل او حرکت پوری د قمری ورځو، میاشتو کلونو اوقات مربوط دی. لمر او سپوږمۍ د هری میاشتی په آخر کښی تقریباً سره نژدی کیږی دلته قمر له سترګو څخه پټیږی. کله چی بیا له لمر وړاندی کیږی نو په نظر راځی. بیا نو منزل په منزل په دی حال کښی چی پرله پسی زیاتیږی پرمخ تګ کوی. څو خلورلسمی شپی ته ورسیږی. نو په (۱٤) کښی بیخی پوره او کاملیږی وروسته له دی نه بیا پخپل تنقیص شروع کوی څو متدرجاً او ورو ورو خپل همغه د اولی شپی هیئت ته اعاده او مراجعت وکړی او د کجورو د هغی قدیمی وچی کلکی څانګی په شان چی له ډیر وچوالی لکه لینده کږه او نری کیږی، کږه وږه، نری، بی رونقه ضعیفه، نحیفه په سترګو کښی بریښی.

لَا الشَّمْسُ يَنۢبَغِيْ لَهَآ اَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ وَلَا الَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ ؕ وَكُلٌّ فِيْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ ۝۴۰

نه دی لمر لائق دغه لره (او له وسه ئی پوره نه ده) چی لاندی کړی سپوږمۍ (په زمان مکان اوصافو کښی) او نه شپه ړومبۍ کیدونکی ده له ورځی، او دغه ټول (فلکی اجرام) په آسمان کښی چورلیدونکی دی (لامبو په کښی وهی فراخ په کښی روان دی).

**تفسیر:** د لمر سلطنت په ورځو کښی دی. او د شپی حکومت په سپوږمۍ پوری ترلی دی. داسی نشی کیدی چی سپوږمۍ د خپلو وړانګو (انوارو) شیندلو (خوررولو) په وخت کښی لمر د پلوشی (اشعه) تحت الشاع واقع شی. یا ورځ لږ شانتی په مخ کښی شی او د شپی پر کومه برخه متصرف شی یا شپه سبقت وکړی او د ورځی له اختتام څخه پخوا راشی. په هر ملک او اقلیم او

په هره زمانه او موسم کښې کومه اندازه چې شپې او ورځې ته ايښودلې شوې ده دغه کرات هيڅ مجال او قدرت نه لري چې له خپل تاکلي (مقرر کړي) حرکت او سرعت څخه وړاندې يا وروسته د يوې رپې په اندازه هم تجاوز يا تخلف وکړي شي. هره يوه سياره په همغه خپل مدار کښې قائمه او پخپل معين نظام سره چورلي او له هغه څخنې د يوې ذرې په اندازه هم يوې خوا او بلې خوا ته هيڅ تمائل او تجاوز نشي کولي او سره له دغومره لوېوالي او سريع او ګرندي حرکت په دغې آزادي فضا کښې يو له بله سره تکر نه وهي او نه متصادم کيږي او نه له خپلې مقررې اندازې څخه څوکه (ورو) يا ګرندي کيږي. آيا دغه د دې خبرې واضحه نښه نه ده چې دغه ټول عظيم الشان مشينونه او د هغو دغه ګرد (ټول) اجزاء او پرزې د کوم زبردست عليم، خبير، قدير ذات په قبضه او اختيار کښې دي چې په داسې دقيق او منظم صورت سره پخپلو کارونو کښې لګيا دي، بيا نو هغه لوی ذات چې دغه شپې ورځې، لمر، قمر، انجم او ټول علويات او سفليات ومافيها ئې پيدا کړي دي او په دغو کښې هر راز (قسم) تبديل، تحويل کوی آيا هغه په دې باندې نه دی قدير چې تاسې وروسته له فناء څخه بيا ژوندي راپاڅوي. (العياذ بالله)

**تنبيه:** حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه د ﴿لَا الشَّمْسُ يَنْبَغِي لَهَا أَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ﴾ د تعبير نکته داسې بيان فرمائي چې «لمر او قمر د هرې مياشتې په آخر سره نژدې کيږي نو قمر لمر نيسي او لمر قمر نشي نيولی نو ځکه «**لاالقمر ينبغي له ان يدرک الشمس**» ئې ونه فرمايل «والله اعلم»

يا دا چې نه دې لمر داسې او نه ښائي لمر ته دا چې لاندې کړي دې سپوږمئي او وروړسيږي يعني چې صحيحه او آسانه وي ورته دا چې لاندې کړي سپوږمۍ او ورسيږي ورته يا په زمان کښې چې په شپو کښې ورسره يو ځای شي يا په مکان کښې چې لمر سماءالدنيا ته ورکوز شي يا په اوصافو کښې چې د لمر سير هم لکه قمر شي يا په سلطان او کمال کښې چې په څوارلسمه کښې ورسره ګډ شي، يا په آثارو او منافعو کښې چې لمر هم د قمر آثار او خواص پيدا کړي حال دا چه هر يو له دغو پنځو ممنوعو شيانو ممنوع او دليل د هر يو ښکاره دی. «برهان الدين کشککی»

---

وَآيَةٌ لَّهُمْ أَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُونِ ﴿۴۱﴾ وَخَلَقْنَا لَهُم مِّن مِّثْلِهِ مَا يَرْكَبُونَ ﴿۴۲﴾

---

او يوه نښه دليل (د قدرت د الله) دوی ته دا ده چې بيشکه مونږ سواره کړي دي مونږ اولاد د دوی په بيړۍ (جهاز د نوح) دکه کړې شوې کښې او پيدا کړي دي مونږ دوی ته په شان د دغه (بيړۍ) هر هغه څه چې دوی پرې سوريږي (له نورو نواقلو څخه).

**تفسیر:** یعنی د حضرت نوح علیه السلام په زمانه کښې لکه چه طوفان راغی نو د آدم نسل ئې د هغه پر ډکې بیړۍ سور کړ چې نوح علیه السلام هغه جوړه کړې ده که نه د انسان تخم به نه پاتې کېده بیا د هغې بیړۍ په نمونه ئې نورې بیړۍ او جهازونه درجوړ کړل چې پر هغو تاسې تر نن پورې سوریږئ او سره له خپلو احمالو او اثقالو ئې له یوې وچې څخه بلې وچې ته وړئ! او له دغو جهازونو څخه هم داسې کار اخلئ لکه چې له نورو نواقلو څخه ئې اخلئ مثلاً اوښ چې هغه ته عربو «**سفائن البر**» یعنی د وچې بیړۍ ویل.

---

وَإِن نَّشَأْ نُغْرِقْهُمْ فَلَا صَرِيخَ لَهُمْ وَلَا هُمْ يُنقَذُونَ ﴿٤٣﴾ إِلَّا رَحْمَةً مِّنَّا وَمَتَاعًا إِلَىٰ حِينٍ ﴿٤٤﴾

---

او که اراده وفرمایو مونږ نو غرق کړې به مو وو دغه (راکبین د بیړۍ) پس نه به وی هیڅ فریاد رس او نه به دوی خلاصولې کیږی (له غرقه) مګر (نه ئې غرقوو) په رحمت مهربانی خپلې سره او دپاره د نفعې اخیستلو تر نیتې (د مرګ د دوی) پورې.

---

**تفسیر:** یعنې دغه د هدوکو یوه موتې انسان ته وګورئ چې څرنګه له ویروونکی سمندرونو او سیندونو څخه د جهاز په ذریعه تیریږی راتیریږی چې د هغو په نسبت د خورا (ډیر) لویو جهازونو حقیقت د یوه نری خځلې په اندازه هم نه دی که الله تعالیٰ اراده وفرمائی چې تاسې په دغو سیندونو کښې ډوب کړی نو څوک تاسې ته له دغه ډوبیدلو څخه نجات درکوی؟ او څوک به مو په فریاد رسیږی. مګر دغه د الله تعالیٰ د حکمت او مهربانی او مصلحت اقتضاء ده چې ګرد (ټول) بحری راکبین نه ډوبوی ځکه چې د ده د رحمت او حکمت اقتضاء هم دغسې ده چې دوی تر یوې معینې نیتې پورې ژوندی وی او دغه دنیوی امور پخپل طبیعی مدار وګرځی. د ډیر افسوس ځای دی چې ډیر خلق د قدرت پر دغو دلائلو او ښو نه پوهیږی او نه د الله تعالیٰ د دغو نعماؤ قدر پیژنی.

---

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّقُوا مَا بَيْنَ أَيْدِيكُمْ وَمَا خَلْفَكُمْ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٤٥﴾
وَمَا تَأْتِيهِم مِّنْ آيَةٍ مِّنْ آيَاتِ رَبِّهِمْ إِلَّا كَانُوا عَنْهَا مُعْرِضِينَ ﴿٤٦﴾

او کله چې وويل شي دوی ته چې ځان وساتئ له هغه (دنيوی عذابه) چې په مخکښې ستاسې دی او له هغه (اخروی عذابه) چې وروسته درپسې راځي ښائی پر تاسې رحم وکړ شي (نو دوی مخ وګرځوی) او نه راځي دوی ته هيڅ دليل له دلائلو د(قدرت) د رب د دوی مګر دی دوی له هغو (دلائلو) څخه مخ ګرځوونکي.

**تفسير:** وړاندې د جزاء ورځ راځي ـ او وروسته مو پريښي دي خپل اعمال. يعنې کله چه دوی ته وويل شي چې د قيامت د سزا او د بدو اعمالو له شامت څخه وويريږئ! او د خپلې آخري خاتمې په نسبت څه فکر او غور وکړئ! څو د الله تعالیٰ رحمت ستاسې په لوری متوجه شي نو دوی په نصيحت له سره غوږ نه ږدی او تل د الله تعالیٰ له احکامو څخه مخ اړوی.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ أَنفِقُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنُطْعِمُ مَن لَّوْ يَشَاءُ اللَّهُ أَطْعَمَهُ ۖ

او کله چې وويل شي دوی ته چې نفقه ورکړه کوئ (عاجزانو ته) له ځينو هغو (مالونو) چې رزق روزی درکړی دی تاسې ته الله نو وائي هغه کسان چې کافران شوی دی (له جهته د استهزاء) هغو کسانو ته چې ايمان ئې راوړی دی آيا طعام ورکړو مونږ هغه چاته که اراده فرمائلې وی الله نو طعام به ئې ورکړی وو هغه ته

**تفسير:** يعنې د الله تعالیٰ نور احکام به څه ومنې ـ پر فقراؤ او مساکينو مال لګول د دوی په نزد هم د ثواب کار دی ليکن هم دغه مسلمه خبره لکه چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم او د مؤمنانو له طرفه دغو منکرانو ته ويله کيږی نو په نهايتو سپکو طريقو او تمسخرو او پوچندو (استهزاء) سره تری اعراض او انکار کوی، او وائي« هغو کسانو ته چې پخپله پاک الله رزق او روزی نه ده ورکړی مونږ به هغوی ته څه ورکولی شو او ولی به ئې ورخورو مونږ د الله تعالیٰ له مشيته مخالف کار نشو کولی، که د الله تعالیٰ مشيت داسې نه وی نو دوی به ئې فقرا او محتاج ـ او مونږ به ئې غنی او دولتمن نه وو ګرځولی.» نو آيا د دغه حماقت او بيحيائی په مقابل کښې څه وويل شي؟ آيا که د الله تعالیٰ اراده د چا په ورکړه کښې شوی وی نو د هغه هم دا يو صورت دی چې پخپله الله تعالیٰ بلا واسطه رزق د هغه په لاس کښې ورکړی؟ که په وسايطو ورکول هم د الله تعالیٰ له مشيت څخه دی؟ نو تاسې دغسې فيصله ولې وکړله؟ چه د الله تعالیٰ اراده په دی نه ده شوی چې هغو ته دوډی ورکړی دغه خو د الله تعالیٰ امتحان دی چې

اغنيا ئې د فقراؤ پر اعانت مامور فرمايلي دي او د دوی په وسيله ئې د هغوی د رزق رسولو سامان مهياء کړی دی. هر هغه چې په دغه امتحان کښې پاتې او ناکامه شي نو ښائي چې دی پر خپلې بدبختۍ او ناکامۍ وژاړي.

**تنبيه:** د ځينو اسلافو له اقوالو معلوميږي چې دغه آيت د ځينو زنادقهؤ په حق کښې دی په دغه صورت به د دوی دغه قول پر تمسخر نه حمل کيږي بلکه پر خپل حقيقت ايښود کيږي.

إِنْ أَنتُمْ إِلَّا فِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٤٧﴾

نه يئ تاسې مګر په ګمراهۍ ښکاره کښې.

**تفسير:** که دغه جمله د کفارو د قول تتمه وي نو مطلب به ئې داسې کيږي «ای د مؤمنانو ټولنې! تاسې په صريحې ګمراهۍ کښې لويدلي يئ چې د داسې خلقو د ګيډې پر مړولو پسې ګرځئ چې د الله تعالیٰ له طرفه هغو کفارو ته خطاب دی چې دوی څومره چټې (بيکاره) او فضول خبرې کوي. حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليکي «دغه ګمراهي ده چې په نيک کار کښې پر تقدير حواله ورکړی او د خپلو مزو په لاس ته راوړلو کښې په طمعې او توقع پسې منډې ووهی».

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٤٨﴾

او وائي (کفار) چې کله به وي دغه وعده (د قيامت ؟ ووايئ راته!) که چيرې يئ تاسې صادقين رښتيني (په دې کښې ای مؤمنانو!).

**تفسير:** يعني ستاسې دغه قيامت او دغه عذاب او آفتونه چې تاسې مو له هغو څخه پرله پسې ويروی، کله راځي ؟ او دغه مواعيد مو کله پوره کيږي ؟ که تاسې په واقع سره رښتيني يئ نو دغه وعده ژر تر ژره پوره کړئ او مونږ ته ئې راوښيئ!

مَا يَنظُرُونَ إِلَّا صَيْحَةً وَٰحِدَةً تَأْخُذُهُمْ وَهُمْ يَخِصِّمُونَ ﴿٤٩﴾
فَلَا يَسْتَطِيعُونَ تَوْصِيَةً وَلَا إِلَىٰٓ أَهْلِهِمْ يَرْجِعُونَ ﴿٥٠﴾ ع

(نو فرمائي الله چې) انتظار نه کوي (کفار) مګر د چغې يوې (د اسرافيل)

چې وبه نیسي دوی حال دا چې دوی به جګړې سره کوي. پس توان به ئې ونه شي د وصیت او نه به خپل اهل ته بیرته ورشي (له مشاغلو خپلو).

**تفسیر:** یعنی قیامت به یو ناڅاپه فجأة واقع شي او په داسې حالت کښې به قائمیږي چې ټول خلق پخپلو معاملاتو او چارو کښې مشغول او لګیا وي. څه وخت چې اول صور (شپیلۍ) وپوکلی شي د ګردو (ټولو) هوش او حواس به مفقود او ورک شي او بالاخر ټول سره مري او په هر ځای کښې به مري یو پر بل لوېږي دوی به دومره یو فرصت هم ونه مومي چې څه ووائي یا څه وصیت وکړي یا خپلو کورونو ته خپل ځان ورسوي، او بالفرض که وصیت هم وکړي نو چا ته به ئې کوي؟ او که خپلو کورونو ته راهم شي نو کورونه به ئې چیرې ودان پاتې وي؟

وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَإِذَا هُمْ مِّنَ الْأَجْدَاثِ إِلَىٰ رَبِّهِمْ يَنسِلُونَ ﴿٥١﴾

او بیا به پوکې وکړ شي په صور (شپیلۍ) کښې پس ناڅاپه دوی له قبورو څخه په طرف د رب خپل به منډې وهي ځغلي.

**تفسیر:** یعنی کله چه دوهمه شپیلۍ (صور) وپوکلی شي نو ګرد (ټول) مخلوقات به سره ژوندي کیږي او له خپلو قبورو څخه به راپورته کیږي. او پرښتې به په ډیر سرعت او شطارت (چالاکۍ) سره دوی ګرد (ټول) په تېل وهلو سره د محشر د میدان په لوري ولي او شړي به ئې.

قَالُوا يَا وَيْلَنَا مَن بَعَثَنَا مِن مَّرْقَدِنَا ۜ

وائي به دوی ای هلاک خرابۍ ده مونږ ته چا راپاڅولو له ځایونو دخوبونو زمونږ څخه.

**تفسیر:** ښائي چې د اولی او دوهمې نفخې په منځ کښې به پر دوی د خوب حالت طاري کیږي. یا د قیامت د هولناکې منظرې له لیدلو څخه به دوی د قبر عذاب آسان وګڼي او داسې یو وضعیت به ځان ته اختیاروي چې خوب ته به ورته او مشابه وي یا به «مرقد» د مضجع په معنی وي د خوب له کیفیت څخه به تجرید وکړی شي والله اعلم.

هَٰذَا مَا وَعَدَ الرَّحْمَٰنُ وَصَدَقَ الْمُرْسَلُونَ ﴿٥٢﴾

دا هغه (دوهم ژوندون) دی چې وعده ئې کړې وه رحمٰن او رښتیا ویلي وو رسولانو.

**تفسیر:** دغه جواب د الله تعالیٰ له جانبه په هغه وخت کښې ورکاوه کیږي. یا ئې مستقبل د حاضر په ځای درولی هم دا اوس ورته جواب وائي یعنې ولې دغه پوښتنه کوئ ؟ لږ شانته خو خپلې سترګې وغړوئ! او دغه وضعیت ته وګورئ! دا خو هم هغه ژوندی راپاڅول دي چې د هغو وعده د الله تعالیٰ له طرفه تاسې ته درکړې شوې وه. او انبیاؤ الله به پرله پسې د هغو اخبار او اطلاع تاسې ته درکوله.

إِن كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً فَإِذَا هُمْ جَمِيعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُونَ ﴿٥٣﴾

نه به وي (دغه نفخه الثانیه) مګر چغه یوه (چې وشي نو راژوندي به شي دوی ټول) پس ناڅاپه دوی ټول په نزد زمونږ به حاضر کړې شوي وي.

**تفسیر:** یعنې هیڅ یو متنفس به نه تښتیدلی شي - او نه به چیرې خپل ځان پټولی شي.

فَالْيَوْمَ لَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَلَا تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٥٤﴾

پس نن ورځ به ونه کاوه شي ظلم په هیڅ نفس باندې د هیڅ څیز او نه به جزاء درکوله کیږي تاسې ته مګر (جزاء) د هغو (اعمالو) چې وئ تاسې چه کول به مو (له خیر او شر په دنیا کښې).

**تفسیر:** یعنې د هیچا به نه نیکي ضائع کیږي او نه به د جرم له حیثیت او اندازې څخه زیاته سزا چاته ورکوله کیږي. پوره پوره او په کامل ډول (طریقه) سره هر چاته د هغې جزاء او سزاء ورکاوه کیږي. او له هر چا سره به په عدل او انصاف سره معامله وشي. او هر چاته به هر هغه نیک او بدکار چې په دنیا کښې ئې کړې وي په عقبیٰ کښې د ثواب او عقاب په شکل او صورت ور د مخه او وړاندې کیږي.

إِنَّ أَصْحَابَ الْجَنَّةِ الْيَوْمَ فِي شُغُلٍ فَاكِهُونَ ﴿٥٥﴾ هُمْ وَأَزْوَاجُهُمْ فِي ظِلَالٍ
عَلَى الْأَرَائِكِ مُتَّكِئُونَ ﴿٥٦﴾ لَهُمْ فِيهَا فَاكِهَةٌ وَلَهُم مَّا يَدَّعُونَ ﴿٥٧﴾

بیشکه اصحاب یاران د جنت به نن ورځ په مشغولتیا کښې د لذت اخیستونکي وی. دغه (جنتیان) او ښځې د دوی به په سیوریو کښې (ناست وی) پر تختونو باندی تکیه وهونکي به وی. وی به دوی ته په دغه جنت کښې (انواع د) میوو او وی به دوی ته هر هغه شی چه غواړی ئې دوی (او آرزو ئې کوی).

**تفسیر:** په جنت کښې به د هر قسم عیش ـ عشرت او نشاط وسائل او سامان وی. مؤمنین به له دنیوی مکروهاتو څخه نجات ومومی او په جنت کښې به د هغوی مشغله ماسواء له تفریح او ساعت تیری څخه بل شی نه وی. دوی به له خپلو ښځو سره یو ځای لکه شودی او شکره ګډ او خوښ او خوشال وی. په ډیره اعلیٰ درجه ښائسته او ښکلو چپرکټونو (څپرکټونو) او پالنګونو به هوسائی (راحت) او آرام کوی. هر قسم میوی، دانی مأکولات او مشروبات به دوی ته حاضر او مهیا وی. پس لنده ئې دا د هر هغه شی طلب آرزو او تمنا چی د جنتیانو په زړونو کښې وګرځی همغه به ورته علی الفور وړاندی کیږی. او د دوی ګرد (تول) مرادونه، ارمانونه به دوی ته پوره او کامل وررسیږی. دغه خو جسمانی خوندونه او لذائذ شول وروسته له دی نه د روحانی نعمتونو په طرف په ﴿ سَلٰمٌ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِيْمٍ ﴾ سره لږ څه اشاره فرمائی.

سَلٰمٌ ۟ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِيْمٍ ﴿٥٨﴾

وی به دوی ته سلام (چی وبه ویلی شی ورته) په ویلو سره له (طرفه د) رب رحم والا.

**تفسیر:** یعنی د هغه مهربان رحمٰن له جانبه به جنتیانو ته سلام وایه کیږی که د پرښتو په ذریعه وی یا به بلا واسطه پخپله رب الرحیم د سلام ارشاد فرمائی لکه چی د «**ابن ماجه**» په یوه روایت کښې راغلی دی. د دی اعلیٰ لذت او کیفیت په نسبت به څه وویلی شی چی د ښکلو او ویلو له قوی څخه وتلی دی. **اللّٰهم ارزقنا هذه النعمة العظمی بحرمة نبیک محمد صلی الله علیه وسلم**

وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُوْنَ ﴿٥٩﴾

او (وبه وایه شی چی) راجدا شئ نن ورځ ای مجرمانو ( کافرانو له مؤمنانو څخه).

**تفسير:** يعني د جنتيانو په عيش او آرام كښې تاسې له سره هيڅ برخه نه لرئ ستاسې د هستوګنې ځای بيل دی چې تل به همغلته اوسيږئ ای مجرمانو كافرانو!

أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ أَن لَّا تَعْبُدُوا۟ ٱلشَّيْطَٰنَ ۖ إِنَّهُۥ لَكُمْ عَدُوٌّ
مُّبِينٌ ﴿٦٠﴾ وَأَنِ ٱعْبُدُونِى ۚ هَٰذَا صِرَٰطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٦١﴾

آيا حكم نه وو كړی ما تاسې ته (په ژبو د رسولانو سره) ای ځامنو د آدم په دی سره چې عبادت مه كوئ تاسې د شيطان بيشكه دغه شيطان تاسې ته دښمن دی ښكاره. او (داسې حكم مې نه وو كړی بلكه كړی مې وو) چې عبادت كوئ (يوائې) زما دغه (عبادت زما) لاره ده سمه (چې جنت ته تللې ده).

**تفسير:** يعني د هم دغې ورځې په نسبت مو تاسې د انبياؤ الله په واسطه مكرر پوهولی وئ او ويلي مو وو چې د لعين شيطان متابعت له سره مه كوئ! چې ستاسې ښكاره او صريح دښمن دی او هغه مو تر هغه پورې نه پريږدی څو مو په دوزخ كښې وغورځوی. كه ابدي نجات غواړئ نو پر دغه سمې صافي لارې چې درښكاره او واضحه كړې شوې ده لاړ شئ او يوائې د الله تعالىٰ په عبادت او بندګۍ كښې مشغول اوسئ!.

وَلَقَدْ أَضَلَّ مِنكُمْ جِبِلًّا كَثِيرًا ۖ أَفَلَمْ تَكُونُوا۟ تَعْقِلُونَ ﴿٦٢﴾ هَٰذِهِۦ جَهَنَّمُ ٱلَّتِى
كُنتُمْ تُوعَدُونَ ﴿٦٣﴾ ٱصْلَوْهَا ٱلْيَوْمَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿٦٤﴾

او خامخا په تحقيق ګمراه كړې وو (شيطان) له تاسې خلق ډير، آيا پس نه يئ تاسې داسې چې عقل وچلوئ. (وبه ويلی شي منكرانو ته په آخرت كښې) دا دوزخ دی هغه چې وئ تاسې چې (په دنيا كښې) وعده ئې درسره كړې شوې وه. ځې ننوځې په ده كښې نن ورځ په سبب د هغې چې وئ تاسې (په دنيا كښې) چې كافران كيدئ.

**تفسير:** يعني افسوس چې سره له دومره نصيحت او پوهولو تاسې ونه پوهيدئ او له غور او فكر

او عقل څخه مو کار وانخیست ـ او دغه ملعون شیطان له تاسی یو لوی جمعیت گمراه او بی لاری کړ ـ آیا تاسو دومره عقل او پوه نه درلوده (لرله) چی د دوست او دښمن په منځ کښی فرق او تمیز سره وکړی شئ ؟
او پخپلی گټی او تاوان وپوهیږئ ؟ په دنیوی کارونو کښی خو مو خپله ډیره هوښیاری او ذهانت ښکاروه ـ مگر په اخروی معامله کښی مو ځان دومره ناپوه او غبی وغورځوه چی په دومره غټو غټو خبرو هم ونه پوهیدئ ـ یا ځان مو پری نه پوهوه ـ او د پوهیدلو لیاقت نه وو درپاتی ـ اوس نو د خپل هغه حماقت او سفاهت نتائج او ثمرات وڅکئ! دغه دی دوزخ درته تیار او منتظر دی چی د هغه وعده مو له تاسی سره د کفر اختیارولو په تقدیر کړی وه. د کفارو د هستوگنی ځای هم دا دی ـ ځئ خپلو ځایونو ته او په کښی الی الابد پریوځئ!.

---

اَلْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلٰٓى اَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَآ اَيْدِيْهِمْ وَتَشْهَدُ اَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿٦٥﴾

---

نن ورځ به مهر ووهو پر خولو د دوی او خبری به وکړی له مونږ سره لاسونه د دوی او شاهدی به ورکړی پښی د دوی په هغو کارونو چی وو دوی چی کول به دوی (په دنیا کښی).

---

**تفسیر:** یعنی که نن دغه خلق پخپلو جرائمو باندی پخپلو ژبو سره هم اقرار او اعتراف وکړی نو څه به کیږی ؟ مونږ د دوی پر خولو مهر لگوو او د دوی لاسونو او پښو بلکه د دوی ابدانو پوستکیو ته به حکم ورکوو څو د هغو د جرائمو بیان وکړی چی د دوی په ذریعه ئی پر هغو ارتکاب کړی وو لکه چی هر عضو (هنده) د الله تعالیٰ په قدرت په وینا راځی او شهادت ورکوی کماجاء فی الرکوع الثالث ۲۰ آیت من حٰمٓ السجدة قوله تعالیٰ. ﴿حَتّٰٓى اِذَا مَا جَآءُوْهَا شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ وَاَبْصَارُهُمْ وَجُلُوْدُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ﴾ وفی موضع آخر فی ذٰلک الرکوع ۲۱ آیت ﴿قَالُوْٓا اَنْطَقَنَا اللّٰهُ الَّذِيْٓ اَنْطَقَ كُلَّ شَيْءٍ﴾

او د نیکانو اعضاء شهادت ورکوی د دوی په طاعت او صلاحیت باندی.

---

وَلَوْ نَشَآءُ لَطَمَسْنَا عَلٰٓى اَعْيُنِهِمْ فَاسْتَبَقُوا الصِّرَاطَ فَاَنّٰى يُبْصِرُوْنَ ﴿٦٦﴾ وَلَوْ نَشَآءُ لَمَسَخْنٰهُمْ عَلٰى مَكَانَتِهِمْ فَمَا اسْتَطَاعُوْا مُضِيًّا وَّلَا يَرْجِعُوْنَ ﴿٦٧﴾

او که اراده فرمایلی وی مونږ نو خامخا هوارولی به راوستلی وو مونږ پر سترګو د دوی پس وړاندی شوی به ؤ دوی هغی لاری ته (چی تل پری تلل). پس څرنګه به لیدلی وه دوی (هغه لاره) او که اراده فرمائلی وی مونږ خامخا مسخ کړی به وو مونږ دوی په ځایونو خپلو کښی پس طاقت به ئی نه وو د وړاندی تللو او نه به بیرته ګرځیدلی شو (شاته).

**تفسیر:** یعنی لکه چی دوی زمونږ له آیاتونو څخه سترګی پټی کړی دی که مونږ اراده فرمائلی وی نو د سزا په ډول (طریقه) به مو د دوی ظاهری بصارت هم له دوی نه اخیست او له دوی نه به مو خالص ړانده جوړ کړی وی چی د دی لوری او د هغه لوری لار به ئی هم پری نه لیدله او هم هغسی چی دوی له شیطانی لارو څخه نه پر څنګ کیږی او نه غواړی چی د الله تعالیٰ پر لاره لاړ شی مونږ قدرت لرو چی د دوی صورتونه بیخی مسخ او له اصلی حالت څخه ئی واړوو څو دوی د خپل کوم ضرورت دپاره بیخی له خپله ځایه پر خوځیدلو قادر نه وی. مګر مونږ داسی ونه کړه ـ او له دغو جوارحو او قواوو څخه مو دوی محروم ونه ګرځول دغه زمونږ له خوا دوی ته مهلت او دیل وو نن به همغه سترګی لاسونه پښی پر دوی شاهدی ورکوی چی دغو چټی (بیکاره) خلقو مونږ پر کومو چټی (بیکاره) کارونو لګولی وو او له مونږ ئی څه څه کارونه اخیستل.

وَمَنْ نُّعَمِّرْهُ نُنَكِّسْهُ فِي الْخَلْقِ ۭ اَفَلَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۶۸﴾

او هر چاته چی اوږد عمر ورکړو مونږ هغه ته نو نسکور به کړو هغه په پیدایښت کښی، آیا پس نه کوی دوی عقل (چی نه پوهیږی چی الله په معمروالی او تنکیس بلکه په بعث هم قادر دی.)

**تفسیر:** یعنی د خپل بصارت فقدان او د صورت مسخ مستبعد مه ګڼئ! آیا تاسی نه ګورئ او غور نه کوئ چی یو روغ رمټ او مضبوط انسان څه وخت چی زیات سپین ږیری او زوړ شی څرنګه د لیدلو ـ آوریدلو ـ تللو ـ ګرځیدلو څخه معذور کیږی. ګواکی د هلکتوب په شان کمزور او ناتوانه ګرځی او بیا د نورو کومک او معاونت او لاس نیولو ته لکه وړوکی محتاجیږی او په زوړتوب کښی همغه د وړوکتوب حالت او عادت له سره شروع کیږی نو آیا هغه الله تعالیٰ چی د دوی د دغه قوی په عطالت او ازاله په وړتوب او زړتوب کښی قادر دی په ځلمیتوب کښی به نه وی مقتدر ؟.

وَمَا عَلَّمْنٰهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنْۢبَغِيْ لَهٗ ۭ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ وَّقُرْاٰنٌ مُّبِيْنٌ ﴿۶۹﴾

او نه دی ښوولي مونږ دغه (محمد) ته شعر او نه ښائيږي ورلره (شعر ويل)، نه دی دغه (قرآن) مگر خالص ذکر پند دی او قرآن دی ښکاره کوونکی (د احکامو).

---

**تفسير:** يعنی څه چی پاس بيان شو گرد (تول) واقعيه حقائق دی او کوم شاعرانه تخيلات نه دی ـ دغه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته مونږ داسی يو عظيم الشان قرآن احسان کړی دی چی پر نصائحو او روښانو تعليماتو معمور دی کوم د شعر او شاعری ديوان نه دی چی په کښی خالص طبع ازمويل ـ او د تخيل او مبالغی مظاهره وی بلکه د محمد صلی الله عليه وسلم مبارکه طبع په فطری ډول (طريقه) سره د شاعری له فنه دومره بعيده ده چی سره له دی چی دوی د قريشو له خاندانه څخه دی چی د هغوی هر فرد حتی چی وينځو ئی هم د شعر ويلو قدرت او طبيعی سليقه لرله مگر دوی پخپل مدت العمر کښی شعر نه دی جوړ کړی البته په رجز او په نورو مواقعو کښی به يو نيم ځلی د دوی د مبارکی ژبی څخه بی تکلفه ځنی مقفیٰ عبارت وتلی وی چی د شعر خاصيت به تری څرگنديده (ښکاريده) چی ښائی دغه تری مستثنیٰ گڼل شی ـ او نه ښائی چی پر دغو د شعر او شاعری اطلاق وکړی شی نه يواځی دوی پخپله شعر نه دی ويلی بلکه د بل کوم شاعر اشعار ئی هم پخپل عمر کښی له دوو څلورو مرتبو څخه زيات نه دی ويلی ـ او د دغو اشعارو د لوستلو په وخت کښی به ئی هم داسی لهجه اختياروله چی په هغه شعر کښی به د شعريت خصوصيات نه ښکاريده يعنی تش د هغه شعر مطلب به ئی اداء فرمايه. الغرض د دوی شريفه طبع له شعر او شاعری سره دومره تناسب او علاقه نه درلوده (لرله) ـ ځکه چی دغه شی د دوی له جليل منصب سره لائق نه ؤ ـ دوی د حقيقت ترجمان ؤ د دوی د بعثت مقصد دا ؤ څو گرده (توله) دنيا له علويه و حقايقو څخه بی له ادنیٰ کذب او غلو خبردار او پوه کړی ظاهر دی چی دغه کار د يوه شاعر له لاسه نه دی پوره ـ ځکه د شاعريت حسن او کمال په دی کښی دی چی په کذب ـ مبالغه ـ تخيل ـ فرضی خبرو جوړولو کښی غلو وکړی که په شعر کښی کوم محمود جزء وی نو هغه پری مؤثر کيږی او په زړه کښی ځای نيسی نو دغه صفت د لوی قرآن په نثر کښی په هغه اندازه موندلی کيږی چی که د ټولی دنيا شعراء سره راټول شی نو دوی په گردو (ټولو) اشعارو کښی د دی پاک قرآن يوه ادنیٰ نمونه هم نشی پيدا کولی. د قرآن الکريم د دغه بديع اسلوب د ليدلو په اثر ويلی شو چی گواکی د نظم اصلی روح د ده په هم دغه نثر کښی مزج او خلط کړی شوی دی ښائی چی له هم دی سببه لوی لوی فصحاء ـ بلغاء ـ او عقلاء د پاک قرآن د فصاحت او بلاغت په مقابل کښی هک پک او حيران پاتی شوی او پاتی کيږی او قرآن ته به ئی شعر او سحر ويل حال دا چی شعر او سحر له قرآن سره هيڅ نسبت نه لری آيا د شاعری او جادوگری پر اساس او بنياد به دنيا کښی د قوميت او روحانيت داسی عظيم الشان او لازوالی ودانی او عمارتونه ودانيدلی او دريدلی شی چی تر نن ورځی پوری د قرآنی تعليم په

اساس قائم او تينګ ولاړ دی ؟ دغه د شاعرانو او د جادوګرانو کار نه دی بلکه د انبياؤ الله کار دی چې د الله تعالیٰ په حکم مرو زړونو ته ابدي ژوندون عطاء کوی. الله تعالیٰ عربو ته د دی خبری د ویلو موقع ور نه کړه چې ووائی تاسی له ابتدا څخه شاعر وئ او اوس مو له شاعری څخه ترقی کړی نبی شوی يئ.

لِّيُنذِرَ مَن كَانَ حَيًّا وَيَحِقَّ الْقَوْلُ عَلَى الْكَافِرِينَ ﴿٧٠﴾

چې وويروی (دغه قرآن يا نبی) هر هغه چې وی ژوندی او ثابته شی خبره (د عذاب) پر کافرانو (چې قرآن نه منی).

**تفسير:** يعنی د ژوندی زړه انسان د قرآن په آوريدلو سره له الله تعالیٰ څخه وويريږی او پر منکرانو د حجت اتمام وشی. حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليکی «په هر چا کښې چې روح وی يعنی نيک اثر واخيستی شی د هغه د فائدی دپاره او پر منکرانو د الزام اړولو دپاره».

أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا خَلَقْنَا لَهُم مِّمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَا أَنْعَامًا فَهُمْ لَهَا مَالِكُونَ ﴿٧١﴾

آيا نه وينی دوی (بلکه وينی ئی) چې بيشکه مونږ پيدا کړی مو دی دوی ته له هغه چې جوړ کړی دی لاسونو (د قدرت) زمونږ چارپايان پس دوی د هغوی مالکان (واکداران) دی.

**تفسير:** له تنزيليه و آيتونو څخه وروسته بيا د تکوينيه‌ؤ آيتونو په طرف توجه ورکوی. يعنی له يوه جانبه د لوی قرآن پندونه او نصائح واورئ او له بل طرفه په غور او دقت سره وګورئ چې پاک الله څرنګه انعام او احسان پر تاسی فرمايلی دی. اوښ - غوائی - آس - کچر - پسه او نور ساکښان (جاندار) تاسی نه دی پيدا کړی بلکه دغه ګرد (تول) پخپله پاک الله ستاسی د فائدی او ګټی دپاره پيدا کړی دی او بيا ئی تاسی محض پخپل فضل او کرم سره د هغو مالکان ګرځولی يئ چې تری وخورئ! او تری هر راز (قسم) کار چې مو زړه غواړی واخلئ! او تری په هر ډول (طريقه) منتفع شئ!.

وَذَلَّلْنَاهَا لَهُمْ فَمِنْهَا رَكُوبُهُمْ وَمِنْهَا يَأْكُلُونَ ﴿٧٢﴾ وَلَهُمْ فِيهَا مَنَافِعُ وَمَشَارِبُ أَفَلَا يَشْكُرُونَ ﴿٧٣﴾

او ذلیل عاجز ایل کړی مو دی دغه (چارپایان) دوی ته پس ځینی له دوی د سورلۍ د دوی دی او له ځینی د دوی خوری. او شته دوی ته په دغو انعامو کښې نفعې ډیری د څښلو (شیان) آیا پس دوی شکر نه وباسی (په دی نعماؤ) ؟.

**تفسیر:** وګورئ چې څومره لوی او عظیم‌الجثه او قوی هیکله حیوانان د ضعیف البنیان انسان په مقابل کښې عاجزان او ناتوانان ـ او ټول ده ته مسخر او تابعان دی د زرهاؤ اوښانو یو قطار (لړ) یو وړوکی هلک هر چیری چې وغواړی بیائی او دوی د پوزی له نکیله راکاږی او دوی د دغه وړوکی په مقابل کښې خپل غوږ هم نه خوځوی او پر څومره قوی او زورورو حیواناتو انسانان سوریږی ـ پیټی پری وړی او ډیر حیوانات حلالوی او له غوښو او نورو اجزا ؤ څخه ئې منتفع کیږی ـ علاوه پر غوښې د دوی له پوستکیو ـ هډوکیو ـ وړیو ـ ویښتانو او نورو څخه څومره فائدی حاصلولی شی ـ د دوی غلانځی داسی دی لکه د شودو چینی چې د هم دغو چینو له اوبو خور (مشرب) څخه ډیر انسانان خړوبیږی (سیرابیږی) خو سره له دی شکر ایستونکی بندګان ډیر لږ دی.

وَاتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ آلِهَةً لَّعَلَّهُمْ يُنصَرُونَ ﴿٧٤﴾ لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَهُمْ وَهُمْ لَهُمْ جُندٌ مُّحْضَرُونَ ﴿٧٥﴾

او نیولی دی (دغو مشرکانو) بې له الله (نور) معبودان چې ښائی دوی سره به مدد وکړی شی. نه لری (طاقت) (دغه معبودان) د نصرت له دوی سره حال دا چې دغه (معبودان) به دوی ته لښکری حاضری کړی شوی وی (په دوزخ کښې).

**تفسیر:** یعنی هغه الله چې دغسی نعمتونه ئې تاسی ته عطاء او مرحمت کړی دی د هغه شکریه تاسی په دی ډول (طریقه) سره ادا کړئ چې د ده په مقابل کښې مو نور معبودان او اختیار لرونکی ودرول او د دوی په نسبت داسی عقیده لرئ چې ګواکی دوی د اړتوب (مجبوری) او احتیاج په وخت کښې زمونږ په کار راځی او په درد خوری او راسره امداد او مرستی (مدد) کوی نو په یاد ئې ولرئ چې هغوی به ستاسی سره څه کومک او مرستی (مدد) وکړی شی؟ حال دا چې دوی خپلو ځانونو ته هم څه نفعه او ګټه (فائده) نشی رسولی. هو! څه وخت چې تاسی امداد او معاونت ته سخت اړ (مجبور) او محتاج اوسئ دوی په هم دغه وخت کښې پر تاسی نور

الزامات او جرمونه هم اړوی او ستاسی پیټی لا درنوی نو هلته به تاسی ته دغه خبره ښکاره شی چی د هغو معبودانو په طرفداری او حمایت چی تاسی خپل ګرد (ټول) عمر مصرف کړی ؤ نن هغوی په کومه سترګه تاسی ته ګوری ؟.

فَلَا يَحْزُنكَ قَوْلُهُمْ إِنَّا نَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٧٦﴾

پس نه دی غمجن کوی تا خبری د دوی (په دی چی ته رسول نه ئی) بیشکه مونږ ته معلوم دی هغه (حسد او بغض) چی پټوی ئی دوی او هغه (کفر او عناد) چی ښکاره کوی ئی دوی.

**تفسیر:** یعنی کله چی پخپله له مونږ سره د دوی سلوک او معامله داسی ده نو تاسی له سره مه غمجن او مه خفه کیږئ! او خپله فریضه په ډیر ښه ډول (طریقه) سره اداء کړئ! او دوی مونږ ته پریږدئ ! مونږ د دوی له ظاهری او باطنی احوالاتو څخه ښه واقف او خبردار یو او په ډیر ښه شان سره د دوی حساب او کتاب اخلو او لازمه احکام د دوی په نسبت صادروو.

أَوَلَمْ يَرَ الْإِنسَانُ أَنَّا خَلَقْنَاهُ مِن نُّطْفَةٍ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ ﴿٧٧﴾

آیا نه وینی نه پوهیږی انسان چی بیشکه مونږ پیدا کړی مو دی هغه له نطفی (یوه څاڅکی اوبو) پس ناڅاپه دی سخت جګړه کوونکی ښکاره دی (له مونږ سره په نفع د بحث کښی).

**تفسیر:** یعنی انسان خپل اصلیت او ماهیت ته نه ګوری او نه ئی په یاد وی چی دی د یوی ناځیزی او ناولی اوبو یو څاڅکی ؤ چی د الله تعالیٰ په قدرت له څه شی څخه څه شی تری جوړ شوی دی ؟ د اوبو دغه څاڅکی ته الله تعالیٰ داسی زور او قوت ـ نطق او بیان ورعطاء کړ چی دی اوس پر هره یوه خبره جګړی او مناقشی کوی او له خپله ځانه راز راز (قسم قسم) خبری او اتری جوړوی ـ تر دی اندازی پوری چی نن له خپله حده متجاوز شوی د خپل لوی خالق په مقابل کښی هم ټینګ او ولاړ دی.

وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَنَسِيَ خَلْقَهُ قَالَ مَن يُحْيِي الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيمٌ ﴿٧٨﴾

او تړی پر مونږ پوری مثل (د هډوکی وراسته) او هیر کړی ئی دی پیدایښت خپل، وائی څوک به ژوندی کړی دغه هډوکی حال دا چی هغه وراسته دی.

**تفسیر:** یعني وګورئ، چې دوئ پر الله تعالیٰ څرنګه خبرې او فقرې ترې ؟ ګویا هغه مطلق قادر د عاجز مخلوق په شان فرضوي او داسي وائي کله چې زمونږ اجساد وراسته شي او بیخي وریږي یواځې وراسته او زاړه هدوکي او ککره مو پاتې شي نو آیا دغه شیان بیا څوک ژوندي کولی شي ؟ د دغسي سؤال کولو په وخت کښې دوئ ته د دوئ اصلي پیدایښت نه په یادیږي. که نه دغه ناڅیزه څاڅکي ته به د دغه الفاظو د ویلو جرأت نه وی پیدا شوی. ښائي چې دی خپل اصل او ماهیت ته نظر وکړي! او لږ دی وشرمیږي! او لږ څه دی له خپله عقله او پوهې کار واخلي! ښکاره ده چې په دغه تقدیر به دی پخپله د دغو سوالاتو هغه جواب وموميٰ چې په دغه راتلونکی آیت کښې مذکور دی.

---

قُلْ يُحْيِيهَا الَّذِيٓ أَنشَأَهَآ أَوَّلَ مَرَّةٍ ۖ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ ﴿٧٩﴾

---

ووایه (ای محمده ده ته) بیا به ژوندی کړي دغه (وراسته هدوکي) هغه (مطلق قادر) چې پیدا کړي ئې دي اول ځلي حال دا چې دغه (الله) په هر قسم پیدایښت ښه عالم دی (که نوی وی او که زوړ).

---

**تفسیر:** یعني هغه لوی ذات چې اول ځلي ئې په دغو هدوکو کښې روح غورځولی دی هغه ته دوهم ځلي به دوی کښې روح اچول څه سختي او اشکال نه لري. بلکه ستاسي په زعم دغه دوهم ځلي ژوندي کول د اول ځلي ژوندي کولو په نسبت لاسهل او آسان دي ﴿ وَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِ ﴾ حال دا چې هغه مطلق قادر ته هر شي آسان دی. اعم له دې چې اول ځلي وي که دوهم ځلي. دی په هر ډول (طریقه) سره په پیدا کولو قادر او مقتدر دی او د بدن اجزاء او د هدوکو بڅرکي هر چیرې چې تیت او پرک (منتشر) وي د هغه هره هره ذره د ده په محیط علم کښې ده او هغه ئې پخپل موعد (تاپې) بیا تولوي او ژوندي کوي ئې.

---

الَّذِي جَعَلَ لَكُم مِّنَ الشَّجَرِ الْأَخْضَرِ نَارًا فَإِذَآ أَنتُم مِّنْهُ تُوقِدُونَ ﴿٨٠﴾

---

هغه (مطلق قادر) چې پیدا کړي ئې دي تاسي ته له ونې شنې څخه اور پس ناڅاپه تاسي له هغې ونې څخه بلوئ اور.

---

**تفسیر:** یعني ړومبی ئې له اوبو څخه تکه شنه او خروبه ونه زرغونه کړه. بیا د دغې تکې شنې او ښکلې ونې لرګي ئې وچ او خس ئې وګرځوله چې اوس تاسي له هغې څخه اور وباسئ پس هغه الله جل جلاله چې دغسي متضاد صفات په اول او آخر کښې بدلولی شي آیا دی به د یوه څيز

په موت او حیات او په لاندی باندی کولو او اړولو رااړولو څرنګه قادر او توانا نه وی.
**تنبیه:** ځینو اسلافو له ﴿ مِّنَ الشَّجَرِ الْأَخْضَرِ ﴾ څخه هغه خاصه ونه مراده کړی ده چی د هغی له څانګو څخه کله چی یو په بل باندی ومښلی شی اور وځی لکه چی زمونږ په مشرقی جلال آباد کښی د (بانس) ونه یا په عربو کښی د (مرخ) او (عفار) ونی دی والله اعلم.

---

اَوَلَيْسَ الَّذِي خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ بِقٰدِرٍ عَلٰٓى اَنْ يَّخْلُقَ مِثْلَهُمْ ؕ بَلٰى ۚ وَهُوَ الْخَلّٰقُ الْعَلِيْمُ ﴿۸۱﴾

---

آیا نه دی هغه (مطلق قادر) چی پیدا کړی ئی دی آسمانونه او ځمکه قادر په دی باندی چی پیدا کړی په شان د دوی ؟ هو! (قادر دی په دی باندی). او هم دی دی اصلی ډیر پیدا کوونکی (د مخلوقاتو) ښه عالم (پر هر شی باندی).

---

**تفسیر:** یعنی هغه لوی ذات چی د آسمان او ځمکی په شان لوئی لوئی کری ئی پیدا کړی هغه ته د دغسی کفارو په شان د وړوکو وړوکو شیانو پیدا کول له سره مشکل نه دی.

---

اِنَّمَآ اَمْرُهٗٓ اِذَآ اَرَادَ شَيْـًٔا اَنْ يَّقُوْلَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿۸۲﴾

---

بیشکه هم دا خبره ده چی امر حکم د الله هر کله چی اراده وفرمائی (د پیدا کولو) د یوه څیز دا دی چی وفرمائی هغه ته چی (جوړ) شه نو (جوړ) شی.

---

**تفسیر:** یعنی د کوم لوی یا وړوکی شی په اول یا دوهم ځلی پیدا کولو کښی الله تعالیٰ ته هیڅ یو اشکال او دقت نشی وړاندی کیدی د ده له جانبه خو تش یوه اراده په کار ده هر کله چی دی د کوم شی د پیدا کولو اراده وفرمائی هغه له علی‌الفور څخه هم وړاندی پیدا کیږی او د یوی ړپی ډیل او تأخیر هم په کښی امکان نه لری.
**تنبیه:** زما په خیال دغه آیت له پخوانی آیت سره هم لګولی شو او داسی هم ویلی کیدی شی چی ړومبی د بدن د پیدایښت ذکر ؤ او دلته ئی د نفخ الروح مطلب پوهولی دی والله اعلم (ارجع الی بحث الروح فی سورة الاسراء من هذا التفسیر.)

فَسُبْحٰنَ الَّذِیْ بِیَدِهٖ مَلَكُوْتُ كُلِّ شَیْءٍ وَّاِلَیْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۸۳﴾

پس پاکی ده هغه (الله) ته چې په لاس (د قدرت) د ده کښې ده باچاهي د هر څیز او خاص هم ده ته بیرته بیا بیولی کیږئ (په آخرت کښې لپاره د جزاء).

**تفسیر:** یعنی هغه لوی معبود او اقدس او ارفع موجود چې د ده د قدرت په لاس کښې فی‌الحال هم د ګردو (ټولو) علویاتو او سفلیاتو د مخلوقاتو د حکومت واک (اختیار) او زمام (واګی) شته په مستقبل کښې هم ګرد (ټول) د هم هغه په لوری ورتلونکی او رجوع کوونکی دی او پاک الله د عجز او سفه او نور هر قسم عیب او نقص څخه په کلی ډول (طریقه) منزه او پاک دی.

تمت سورة یٰسٓ ولله الحمد والمنة

سورة «الصافات» مکیة وهی مائة واثنتان وثمانون آیة وخمس رکوعات رقمها (۳۷) تسلسلها حسب النزول (٥٦) نزلت بعد سورة «الانعام»

د «الصافات» سورت مکی دی (۱۸۲) آیته او (٥) رکوع لری په تلاوت کښې (۳۷) او په نزول کښې (٥٦)

سورت دی وروسته د «الانعام» له سورته څخه نازل شوی دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

شروع کوم، په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

وَالصّٰٓفّٰتِ صَفًّا ﴿۱﴾ فَالزّٰجِرٰتِ زَجْرًا ﴿۲﴾

قسم دی پر (هغو پرښتو چې) صف تړونکی دی په صف تړلو سره بیا پر (هغو) شړونکیو (د شیطانانو) په شړلو سره.

**تفسیر:** یعنی چې صف تړی قطار قطار او په منظم ډول (طریقه) سره ودریږی که پرښتی وی چې د الله تعالیٰ د احکامو د اوریدلو دپاره پخپلو ځایونو کښې درجه په درجه ودریږی یا عبادت کوونکی انسانان وی چې په لمانځه او جهاد او نورو کښې سره صفونه تړی.

**تنبیه:** په محاوراتو کښې قسم د تاکید دپاره دی چې علی‌الاکثر د منکرانو په مقابل کښې

استعماليږي ليکن ډېر اوقات محض د يوه مضمون د مهتم بالشان ظاهرولو دپاره هم استعماليږي او د قرآن الکريم قسمونه پر متبعينو ظاهرېږي چې عموماً مقسم به مقسم عليه ته د يوه شاهد يا دليل په ډول (طريقه) وي. والله اعلم.

﴿ فَالزّٰجِرٰتِ زَجْرًا ﴾ - بيا پر هغو شړونکيو د شيطانانو په شړلو سره).

يعنې هغه پرښتې چې شيطانان رټي او شړي ئې څو د خپلو استراق السمع په اراده کښې برياليان او کامياب نشي يا بندګانو ته د نيکۍ او فضائلو لاره ښيي او له بدۍ او رذائلو څخه ئې منع کوي يا هغه نيک انسانان چې خپل ځان له بديو څخه ساتي او نورو ته هم د بدۍ او شرارت په خلاف پند او نصيحت او زجر ورکوي بالخاصه د جهاد په ډګر او د کفارو په مقابله کښې چې د دوی زجر ـ تهديد او توبيخ لا زيات وي.

---

فَالتّٰلِيٰتِ ذِكْرًا ۝٣ إِنَّ إِلٰهَكُمْ لَوَاحِدٌ ۝٤

---

بيا په هغو لوستونکيو په ذکر کولو سره. چې بيشکه معبود ستاسي خامخا يو دی.

---

**تفسير:** يعنې هغه پرښتې يا انسانان چې د الله تعالیٰ احکام وروسته له آوريدلو څخه لولي او يادوی ئې څو ئې نورو ته هم ورښوولی شي.

﴿ إِنَّ إِلٰهَكُمْ لَوَاحِدٌ ﴾ - چې بيشکه حق معبود د ستاسي خامخا يو دی).

بيشکه په آسمانونو کښې پرښتې او په ځمکه کښې د الله تعالیٰ نيک بندګان په هره زمانه کښې قولاً او فعلا شهادت ورکوي چې د ټولو مالک او حقيقي معبود هغه يو الله دی چې مونږ ټول د هم هغه بندګان او تابعان او رعايا يو.

---

رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَرَبُّ الْمَشَارِقِ ۝٥

---

چې رب د آسمانونو او ځمکې دی او د هغو (شيانو) دي چې په منځ د دوی کښې دي او رب د مشرقونو (او د مغربونو او نورو دي).

---

**تفسير:** له شمال څخه تر جنوب پورې يو طرف «مشرقين» دی ځکه چې لمر ـ قمر او نجوم هره ورځ او هره شپه له بيلو بيلو ځايونو څخه راخرګنديږي (ښکاره کيږي)! يعنې هغه نقاط چې له هغو ځايونو څخه طلوع کيږي. او بل طرف ئې په هغومره اندازې «مغربين» دی ښائی دلته د مغاربو ذکر ئې د دې لامله (له وجې) نه وی کړی چې له «مشارق» ځنې د مقابل طرف په اعتبار پخپله فهميږي او له يوه حثيته طلوع الشمس والکواکب ته د الله د حکومت د شان او عظمت په

اثبات کښې د دوی د غروب په نسبت زیات اثر او دخل شته والله اعلم.

إِنَّا زَيَّنَّا السَّمَاءَ الدُّنْيَا بِزِينَةٍ الْكَوَاكِبِ ۝٦

بیشکه مونږ ښائسته کړی مو دی دغه آسمان نژدی په ښائست سره چې ستوری دی.

**تفسیر:** یعنی په تیارو شپو کښې دغه آسمان د دغو بیحسابو ستوریو د ځلیدلو څخه د کتونکیو په سترګو څومره ښائسته او ښکلی ـ مزین او ډک له سینګاره او رونقه معلومیږی.

وَحِفْظًا مِّن كُلِّ شَيْطَانٍ مَّارِدٍ ۝٧

او ساتلی دی (مونږ دا آسمان) په ساتنی سره له هره شیطانه سرکشه نافرمانه (چې ویشتلی شی په لمبو سره)

**تفسیر:** یعنی په دغو ستوریو د آسمان زینت او ښائست دی او له ځینو ستوریو څخه چې رالویږی د شیاطینو په انسداد او اندفاع کښې هم کار اخیست کیږی. دغه لوېدونکی ستوری څه شی دی ؟ آیا له نوریه ؤ کواکبو څخه برسیره د بلی کومی نوعی مستقل کواکب دی ؟ یا د دغو نوریه ؤ کواکبو له شعاعو ځنی منفک کیږی! او تری یو راز (قسم) سوځوونکی اور پیدا کیږی ؟ یا پخپله له دغو کواکبو ځنی اجزاء جدا کیږی او لویږی ؟ په دغه مورد کښې د علماؤ او حکماؤ مختلفی خبری او اقوال دی. په هر حال د ده حقیقت هر شی چې وی وی دی خو له دغو څخه د شیاطینو د ویشتلو کار هم اخیست کیږی د دی څه تفصیل د «حجر» د سورت په تفاسیرو کښې تیر شوی دی هلته دی ولوست شی!.

لَّا يَسَّمَّعُونَ إِلَى الْمَلَإِ الْأَعْلَىٰ وَيُقْذَفُونَ مِن كُلِّ جَانِبٍ ۝٨ دُحُورًا

غوږ نه نیسی (دغه شیاطین) طرف (د خبرو) د هغه تولی لوی پورته ته او ویشتلی غورځولی شی له هر طرفه (د آسمانه چې دوی اراده وکړی د هغه د ختلو) دپاره د شړلو.

**تفسیر:** له پاس مجلس څخه د پرښتو مجلس مراد دی یعنی شیاطینو ته د دی خبری قدرت نه دی ورکړی شوی چې د پرښتو مجلس ته ځان ورسوی او د الله تعالیٰ له وحی څخه کومه خبره واوری.

کله چې شیاطین داسې اراده وکړي او پاس آسمانونو ته د ورنژدې کیدلو کوشش کوي نو هر طرف ته چې دوی ورځي له هغه ځایه ئې پرښتې شړي او په وهلو او ویشتلو سره ئې لاندې غورځوي.

وَلَهُمْ عَذَابٌ وَّاصِبٌ ﴿٩﴾

او شته دوی ته عذاب دائم سخت.

**تفسير:** یعنې په دنیا کښې دوی تل تر تله شړل او رټل کیږي د دوی اخروي عذاب خو بیل دی.

إِلَّا مَنْ خَطِفَ الْخَطْفَةَ فَأَتْبَعَهُ شِهَابٌ ثَاقِبٌ ﴿١٠﴾

مګر (غوږ نیسي) هغه (شیطان) چې غوته واچوي په یو کرت غوته اچولو سره پس ژر ورپسې راخطا شي لمبه رڼا (رڼړا) کوونکي سوځونکې.

**تفسير:** یعنې په هم دغو تښتیدلو او ځغلیدلو کښې د ویرې او وارخطائۍ په منځ کښې یوه نیمه خبره آوري خو سره له هغه پرښتې په شهاب ثاقب سره د دوی تعاقب کوي. د دې تفسیر د «حجر» د سورت په ابتدا کښې پخوا لیکلې شوی دی.

فَاسْتَفْتِهِمْ أَهُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمْ مَّنْ خَلَقْنَا ط

پس وپوښته ته دغه مشرکان چې آیا دوی سخت دي له جهته د پیدایښت که هغه څوک چې پیدا کړي مو دي.

**تفسير:** یعنې د بعث له منکرینو څخه پوښتنه وکړئ چې د آسمان ـ ځمکې ـ ستوریو ـ پرښتو ـ شیاطینو او د نورو مخلوقاتو پیدا کول د دوی په خیال کښې زیات مشکل کار دی یا پخپله د دوی پیدا کول؟ او هغه هم وروسته له یو ځلې پیدا کولو څخه ظاهر دي هغه الله تعالیٰ ته چې د داسې عظیم الشان مخلوقاتو خالق دی دوهم ځلې پیدا کول هم هیڅ اشکال نه لري.

إِنَّا خَلَقْنَاهُمْ مِّنْ طِينٍ لَّازِبٍ ﴿١١﴾

بیشکه مونږ پیدا کړي مو دي دوی له ختې سرېښناکې.

**تفسیر:** یعنی د دوی اصلی حقیقت مونږ ته تول معلوم دی له یو شان سریښناکی ختی څخه مونږ د دوی د نیکه کالبوت جوړ کړ. اوس د هغه اولاده داسی دعوی کوی چی د آسمان او د ځمکی پیدا کوونکی د دوی په بیا پیدا کولو نه دی قادر همغسی چی مونږ اول ځلی تاسی له خاورو څخه پیدا کړی یئ دوهم ځلی به هم تاسی له خاورو څخه بیا ژوندی راپاځوو.

بَلْ عَجِبْتَ وَيَسْخَرُونَ ﴿١٢﴾

بلکه ته تعجب کوی ته (د دوی پر تکذیب او انکار) حال دا چی مسخری کوی دوی (پر تا پوری).

**تفسیر:** یعنی ته تعجب کوی چی دوی ولی پر داسی صافو خبرو نه پوهیږی ؟ او له دوی سره توکی او مسخری کوی چی دغه (نبی) څرنګه چتی (بیکاره) او فضول خبری کوی ؟ (العیاذبالله).

وَإِذَا ذُكِّرُوا لَا يَذْكُرُونَ ﴿١٣﴾ وَإِذَا رَأَوْا آيَةً يَسْتَسْخِرُونَ ﴿١٤﴾ وَقَالُوا إِنْ هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ مُبِينٌ ﴿١٥﴾

او هر کله چی وپوهول شی دوی نه پوهیږی (پند نه اخلی) او هر کله چی ووینی دوی کومه نښه دلیل (د قدرت) نو مسخری پری کوی. او وائی (منکران) چی نه دی دا (چی مونږ ولید) مګر سحر کوډی دی ښکاره.

**تفسیر:** یعنی کله چی پند او نصیحت اوری پری غور او فکر نه کوی او هغه د قدرت د دلائلو نښی او معجزی چی ګوری هغو ته د کوډو او د سحر نسبت کوی او پری خاندی تمسخر او پوچندی (استهزاء) کوی او غواړی چی بلا اثر ئی وګرځوی.

أَإِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَامًا أَإِنَّا لَمَبْعُوثُونَ ﴿١٦﴾ أَوَآبَاؤُنَا الْأَوَّلُونَ ﴿١٧﴾

(او وائی منکران) آیا هر کله چی مړه شو او شو خاوری او (وراسته) هډوکی آیا مونږ به خامخا بیا ژوندی راپاڅول کیږو که پلرونه ړومبنی زمونږ (هم را ژوندی کیږی ؟).

**تفسیر:** د دوی همغه یوه خبره زده ده چی صاحبه ! کله چی زمونږ وجود له خاورو سره یو ځای شو او یوازې زمونږ هډوکی پاتی وی او له دې نه زیات زمونږ پلار نیکه چی د هغوی له مړینی څخه قرنونه تیر شوی دی او ښائی چی هډوکی ئی هم نه وی پاتی نو دغه څرنګه منلی شو چی دغه ټول له سره راټولیږی، او بیا له سره ژوندی راپاڅولی کیږی؟.

قُلۡ نَعَمۡ وَأَنتُمۡ دَٰخِرُونَ ﴿١٨﴾ فَإِنَّمَا هِيَ زَجۡرَةٞ وَٰحِدَةٞ فَإِذَا هُمۡ يَنظُرُونَ ﴿١٩﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) هو ! (ټول راژوندی کیږئ) حال دا چی تاسی به ذلیل هم یئ پس بیشکه هم دا خبره ده چی دغه قیامت چغه ده یوه پس ناڅاپه دوی به ګوری (چی څه راپوری کیږی).

**تفسیر:** یعنی هو! ضرور هغوی ګرد (ټول) بیا ژوندی راپاڅول کیږی او هلته به په نهایت ذلت او رسوائی سره د دغه تکذیب او انکار ربږ (تکلیف) او سزا مومی.

وَقَالُواْ يَٰوَيۡلَنَا هَٰذَا يَوۡمُ ٱلدِّينِ ﴿٢٠﴾

او وائی به (منکران) ای خرابی ده مونږ ته (نو وائی) به ملائکی دوی ته) دا خو هغه ورځ ده د جزاء

**تفسیر:** یعنی په یوه چغه سره به ټول سره ژوندی راپاڅولی کیږی او له ډیر حیرت او دهشت څخه به یو طرف او بل طرف ته ګوری. (دغه چغه یا جګړی ورکول به د صور نفخی په ذریعه وی).

هَٰذَا يَوۡمُ ٱلۡفَصۡلِ ٱلَّذِي كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ﴿٢١﴾

دا هم هغه ورځ د فیصلی (او قضاء) ده هغه (ورځ) چی وئ تاسی چی په دی باندی به مو نسبت د دروغو کاوه (او باور مو پری نه کاوه چی رابه شی).

**تفسیر:** یعنی دغه خو په واقعي او رښتيا سره د جزاء ورځ راورسيده چې د هغې اطلاع او خبر مونږ ته انبياؤ الله راکړی وو او مونږ به پرې مسخرې کولې.

اُحْشُرُوا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا وَاَزْوَاجَهُمْ وَمَا كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ ﴿۲۲﴾

(وبه فرمائی الله ملائکو ته چې) راټول کړئ تاسې هغه کسان چې ظلم ئې کړی وو (په ځانونو خپلو په انکار او په شرک سره) او (کافرانې) ښځې (يا شيطانان ملګري) د دوی او هغه چې وو دوی چې عبادت به ئې کاوه (د بتانو).

**تفسیر:** دغه خطاب به د الله تعالیٰ له طرفه کيږي.

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَاهْدُوْهُمْ اِلٰى صِرَاطِ الْجَحِيْمِ ﴿۲۳﴾

بې له الله پس روان کړئ برابر کړئ دوی لارې د دوزخ ته (او دوزخ ته ئې ورسوئ).

**تفسیر:** دغه حکم به پرښتو ته ورکاوه کيږي چې دغه ګرد (ټول) سره راټول کړئ! او د دوزخ لاره وروښيئ.

**تنبيه:** له «ازواج» يا جوړې شخه د يوې نوعې يا صنف ګنهګاران مراد دي يا به د دوی کافرې ښځې مرادې وي او له ﴿ وَمَا كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ﴾ شخه اصنام ـ شياطين او نور مراد دي.

وَقِفُوْهُمْ اِنَّهُمْ مَّسْئُوْلُوْنَ ﴿۲۴﴾

او ودروئ دوی (په دغې لارې کښې) بيشکه دوی پوښتيدل شي (يعنې ترې پوښتنه کيږي د اقوالو او افعالو د دوی)

**تفسیر:** له حکم شخه وروسته به لږ شه هلته درول کيږي شو له دوی ځنې هغه سؤال او جواب وکړ شي چې وروسته له دې نه په ﴿ مَا لَكُمْ لَا تَنَاصَرُوْنَ ﴾ کښې مذکور دي.

مَا لَكُمْ لَا تَنَاصَرُونَ ﴿٢٥﴾ بَلْ هُمُ الْيَوْمَ مُسْتَسْلِمُونَ ﴿٢٦﴾

څه مانع ده تاسی ته چی مرسته (مدد) نه کوئ یو له بل سره (په خلاصی کښی لکه چی کوله مو په دنیا کښی) (هیڅ نشی کړی) بلکه دوی نن ورځ پخپله خپل ځانونه تسلیموی (او ذلیل) دی.

**تفسیر:** یعنی په دنیا کښی به تاسی ﴿ نَحْنُ جَمِيعٌ مُنْتَصِرٌ ﴾ ویل چی مونږ یو له بل سره مرستی (مدد) او مددګاران یو نن پر تاسی څه شوی دی چی یو له بل سره هیڅ امداد او معاونت نه کوئ ؟ بلکه هر یو له تاسی بی له دی نه چی لږ څه خپل غوږ وخوځوئ په نهایت ذلت او حقارت سره نیول او راوستل کیږئ.

وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ ﴿٢٧﴾ قَالُوا إِنَّكُمْ كُنْتُمْ تَأْتُونَنَا عَنِ الْيَمِينِ ﴿٢٨﴾

او مخ به وګرځوی ځینی د دوی پر ځینو نورو (کشرانو او مشرانو) پوښتنه به کوی دوی یو له بله وبه وائی (کشران مشرانو ته) چی بیشکه تاسی وئ تاسی (په دنیا کښی) چی راتلئ به مونږ ته له جانبه د قسم (یا زور او قوت).

**تفسیر:** په «یمین - ښی لاس» کښی عموماً ډیر زور او قوت وی یعنی هم دا تاسی وئ چی پر مونږ باندی به راتلئ زمونږ د ګمراه کولو دپاره او د خپل زور او قوت راښوولو په نسبت یا له یمین څخه مراد د خیر او برکت په جانب نیول دی یعنی هم دا تاسی وئ چی راتلئ او غلبه به مو کوله پر مونږ باندی چی له نیکی او ښیګڼی (ښه کار) څخه مونږ واپس شو. یا وئ تاسی چی راتلئ به په نصائحو او ښو غوښتنو سره چی نیک به وو په ګمان ستاسی سره ـ یا له جانبه د قسمه چی مونږ په حق دین یو دغه خبری او اتری به د تابعانو او متبوعینو (مشرانو او کشرانو) په منځ کښی سره کیږی.

قَالُوا بَلْ لَمْ تَكُونُوا مُؤْمِنِينَ ﴿٢٩﴾ وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيْكُمْ مِنْ سُلْطَانٍ ۖ بَلْ كُنْتُمْ قَوْمًا طَاغِينَ ﴿٣٠﴾ فَحَقَّ عَلَيْنَا

قَوْلُ رَبِّنَآ ۖ إِنَّا لَذَآئِقُونَ ﴿٣١﴾ فَأَغْوَيْنَٰكُمْ إِنَّا كُنَّا غَٰوِينَ ﴿٣٢﴾

وبه وائی (متبوعان تابعانو ته نه ده داسی) بلکه نه وئ تاسی پخپله ایمان راوړونکی او نه وو مونږ ته پر تاسی باندی هیڅ زور تسلط بلکه وئ تاسی یو قوم سرکشه (له حده وتونکی زمونږ په شان) پس ثابته شوه پر مونږ خبره د رب زمونږ بیشکه مونږ خامخا څکونکی یو (د عذاب) پس مونږ گمراه کړئ تاسی بیشکه (لکه) چی مونږ وو گمراهان.

**تفسیر:** یعنی تاسی خو پخپله ایمان نه راوړ اوس د هغه الزام او ملامتی پر مونږ باندی غورځوئ مونږ خو څه زور او زیادت نه وو کړی او نه پر تاسی باندی داسی زورور او قوی وو چی مونږ ایمان نه دی پریښی چی ستاسی په زړونو کښی ننوځی. تاسی پخپله د عقل او انصاف له حده وتلی وئ چی د بیغرضو ناصحانو پندونو ته به مو غوږ نه کیښود او زمونږ په تش لمسون له لاری بی لاری شوی وئ که تاسی له خپله عقله، فهمه او پوه څخه کار اخیستی او خپل عاقبت ته مو کتلی. نو زمونږ پر خبرو به مو له سره غوږ نه کیښود، مونږ خو ظاهر باهر گمراهان، او بی لاری رټلی شوی شیطانان یو ـ او دغه خبره ظاهره او څرگنده (ښکاره) ده چی له یوه گمراه څخه ماسواء له گمراهی او د ضلالت په طرف له بلنی څخه بل شی نه متوقع کیږی مونږ همغه شی کړی دی چی زمونږ له حاله سره وړ (لائق) او مناسب وو ـ لیکن پر تاسی څه بلا او آفت لویدلی وو چی زمونږ په لمسون وغولیدئ ؟ او د شیطانی حکمونو اطاعت مو وکړ؟ په هر حال هر هغه شی چی کیدونکی وو هغه وشو او د الله تعالیٰ حجت پر مونږ قائم شو او د ده همغه خبره ﴿ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكَ وَمِمَّن تَبِعَكَ ﴾ الآیة ـ کامله تثبیته شوه. نن مونږ او تاسو گرد (تول) سره یو ځای د خپلو بدو افعالو او بدو چارو او غلطو کارونو خوند او مزه څکونکی یو او د دوزخ د سختو عذابونو موندونکی یو.

فَإِنَّهُمْ يَوْمَئِذٍ فِي الْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ ﴿٣٣﴾

(نو فرمائی الله) پس بیشکه چی دوی نن ورځ په عذاب کښی سره شریکان دی.

**تفسیر:** یعنی تول مجرمان به درجه په درجه په عذاب کښی هم همغسی شریکیږی لکه چی په جرم او گناه کښی سره ملگری او شریکان وو.

إِنَّا كَذَٰلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِينَ ﴿٣٤﴾ إِنَّهُمْ كَانُوٓا۟ إِذَا قِيلَ لَهُمْ

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ يَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۳۵﴾

بیشکه مونږ هم داسی (لکه چی له دوی سره مو وکړ) کوو له تولو مجرمانو سره بیشکه دوی وو کله چی وبه ویل شو دوی ته چی نشته بل برحق معبود هیڅوک مګر یواځی الله دی نو تکبر به ئی کاوه (له ویلو د کلمی نه یا کبر او لوئی کوی دوی په دی بلونکی باندی).

**تفسیر:** یعنی د دوی کبر او غرور مانع دی چی د نبی الله له ارشاد سره سم د «لااله الاالله» پاکه کلمه پر خپلی ژبی راوړی چی په هغی سره د دروغو معبودانو نفی کیږی اګر که په زړه کښی هغه رښتین ګڼی.

وَيَقُوْلُوْنَ اَئِنَّا لَتَارِكُوْٓا اٰلِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَّجْنُوْنٍ ﴿۳۶﴾ بَلْ جَآءَ بِالْحَقِّ وَصَدَّقَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۳۷﴾

او وائی (دغه منکران) چی آیا بیشکه مونږ خامخا پریښودونکی یو د خدایانو خپلو دپاره د یو شاعر لیونی (الله فرمائی په تردید د منکرانو ـ نه ده داسی) بلکه راغلی دی (محمد) په حق (دین) سره او رښتین بولی (محمد تول پخوانی) رسولان.

**تفسیر:** یعنی د شاعرانو دروغ خو مشهور دی. نو دغسی صدیق او امین ذات ته څرنګه تاسی شاعر وایئ ؟ چی دنیا ته حقیقی رښتیا او صداقت هم دوی له خپله ځان سره راوړی دی او د ګرد (تول) جهان د صدیقانو او رښتینو تصدیق کوی. آیا لیونی او مجنون هم داسی رښتیا او صافی صافی خبری کوی ؟ او دغسی صحیح او پاخه اصول دروړاندی کولی شی؟.

اِنَّكُمْ لَذَآئِقُوا الْعَذَابِ الْاَلِيْمِ ﴿۳۸﴾ وَمَا تُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۳۹﴾

بیشکه چی تاسی خامخا څکونکی یئ د عذاب دردناک (په سبب د شرک او تکذیب خپل). او جزاء به نه درکوله کیږی تاسی ته مګر په قدر د هغه (عمل) چی وئ تاسی چی کاوه به مو (په دنیا کښی).

**تفسیر:** یعنې د توحید د انکار او د دغو بې ادبیو او گستاخیو خوند او مزه به وڅکئ چې د رسالت په دربار کښې ئې کوئ هر څه چې کوئ د هغه گرد (تول) نتائج او ثمرې هرومرو (خامخا) یوه ورځې ستاسې په مخ کښې راتلونکې دی.

اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿۴۰﴾

مگر هغه بندگان د الله چې پاک کړی شوی دی (له پلیتی نه نو ډیره ښه مضاعفه جزاء به مومی).

**تفسیر:** یعنې د دوی په نسبت څه وویل شي د دوی وضعیت او حالت خو بیخي له هغوی څخه جلا (جدا) او متمائز او کامل بل قسم دی او پر دوی د الله تعالیٰ کرم او احسان نازلیږی او د داسې انعاماتو مورد گرځی چې ځینې ئې دغه دی

اُولٰٓئِكَ لَهُمْ رِزْقٌ مَّعْلُوْمٌ ﴿۴۱﴾ فَوَاكِهُ ۚ

دغه (مخلصین چې دی) شته دوی ته رزق روزی معلومه (رنگا رنگ) میوی

**تفسیر:** یعنې داسې عجیبې او غریبې میوې د خوړلو دپاره دوی ته وړاندې کیږی چې د هغوی پوره صفت او خاصیت فقط الله تعالیٰ ته معلوم دی. هو! د هغو لږ څه لنډ او مختصر تعریف ئې په دې صورت سره خپلو بندگانو ته ښوولی دی چې ﴿ لَّا مَقْطُوْعَةٍ وَّلَا مَمْنُوْعَةٍ ﴾ جزء ۲۷ (د الواقعه (۱) رکوع) ۳۳ آیت

وَهُمْ مُّكْرَمُوْنَ ﴿۴۲﴾

او دوی ته به عزت ورکړی شوی وی.

**تفسیر:** په دې باندې پاک الله ښه پوهیږی چې څومره لوی اعزاز او اکرام او احترام به وی.

فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿۴۳﴾ عَلٰى سُرُرٍ مُّتَقٰبِلِيْنَ ﴿۴۴﴾ يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِكَاْسٍ مِّنْ مَّعِيْنٍ ﴿۴۵﴾ بَيْضَآءَ لَذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ ﴿۴۶﴾

لَا فِيْهَا غَوْلٌ وَّلَا هُمْ عَنْهَا يُنْزَفُوْنَ ﴿٤٧﴾

په جنتونو ودانو له نعمتونو کښې (ناست به وی) پر تختونو سره مخامخ (چې هر يو د بل له ليدلو څخه خوشاليږی). ګرځولی به شي پر دوی (له طرفه د سقات د جنت) له جامونو د صافو شرابو تک سپين خوند ورکوونکی دپاره د څښونکيو نه به وی په دغو شرابو کښې څه آفت علت او نه به وی دوی له هغو شرابو څخه مست بيخوده.

**تفسير:** يعنې خوند ـ مزه او نشاط به ئې پوره وی او د هغو مضارو او مفاسدو به هيڅ يوه نښه او اثر هم په کښې نه وی چې په دنيوی شرابو کښې شته، د دغو طهورو شرابو له څښلو څخه به د سر درونډ والی او نشه نه پيدا کيږی ، يني او سګی به نه خرابوی، او نه به ئې ويالی وچيږی.

وَعِنْدَهُمْ قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ عِيْنٌ ﴿٤٨﴾ كَاَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَّكْنُوْنٌ ﴿٤٩﴾

او وی به په نزد د دوی کښې حوری تيتی لرونکی د سترګو غټی سترګی ګواکی دوی هګی دی پټی ساتلی شوی (په صفائی کښې).

**تفسير:** يعنې له ډيره شرمه او نازه ښکته کتونکی حوری چې ماسواء له خپلو ميړو (خاوندانو) بل هيچا ته نه ګوری او نه سترګی ورآړوی.

د دی حورو رنګونه به ډير صاف او شفاف وی په شان د هغو تکو سپينو هګيو چې الوتونکی ئې تر خپلو وزرو لاندی پټی ساتی نه به پری کوم داغ لګيدلی وی او نه به څه ګردغبار او دوړی پری لويدلی وی يا د هغو نريو پردو په شان تکی سپينی او پستی او نازکی وی چې د هګی د پوستکی په منځنی برخه کښې د سپينی برخی او پوتکی په منځ کښې واقع او ساتلی وی ځينی وائی چې د «شتر مرغ» هګی تری مراده ده چې ډيره ښائسته وی ـ به هر حال دغه تشبيه په صفائی او ښکليتوب کښې ده نه په سپينوالی کښې لکه چې د «الرحمٰن» په جزء ۲۷ (۳) رکوع ۵۸ آيت کښې داسی يو آيت مونږ لولو ﴿ كَاَنَّهُنَّ الْيَاقُوْتُ وَالْمَرْجَانُ ﴾

فَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَّتَسَآءَلُوْنَ ﴿٥٠﴾ قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ اِنِّىْ كَانَ لِىْ قَرِيْنٌ ﴿٥١﴾ يَّقُوْلُ
ءَاِنَّكَ لَمِنَ الْمُصَدِّقِيْنَ ﴿٥٢﴾ ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَدِيْنُوْنَ ﴿٥٣﴾

پس مخ به وګرځوی ځینی د دی جنتیانو پر ځینو نورو جنتیانو چی پوښتنه به سره کوی یو له بله (له احواله د دنیا) نو وبه وائی یو ویونکی له دوی نه چی بیشکه زه چی وم وو ما لره یو ملګری (منکر له بعثه) چی ویل ئی (ماته) آیا بیشکه ته چی ئی له باور کوونکیو ئی (په بعث بعد الموت) آیا هر کله چی مړه شو مونږ او شو مونږ خاوری او هډوکی آیا بیشکه مونږ ته به خامخا جزاء راکړه شی ؟.

---

**تفسیر:** یعنی د مجلس ملګری به سره تولیږی او د طهورو شرابو جامونه به سره څښی او د دغه عیش او تنعم په وقت کښی به ځینی د خپلو تیرو حالاتو او واقعاتو تذکری سره کوی. یو جنتی به وائی چی خانه! په دنیا کښی به یو سړی د دی لامله (له وجی) پر ما خندیده چی زه ولی پر آخرت قائل او پر وجود ئی باور لرم او ماته به ئی د نادان او د احمق نسبت کاوه او ویل به ئی چی دغه بیخی مهمله او چتی (بیکاره) خبره ده وروسته له دی نه چی سړی مړ او له خاوری او له نورو سره ګډ شی او غوښه او پوستکی هیڅ شی ئی پاتی نشی او تش وراسته هډوکی ئی پاتی شی نو بیا دی د خپلو اعمالو د بدل موندلو دپاره ژوندی راپاڅاوه شی؟ ـ ښه خو پر دغه چتی (بیکاره) او بی منطقه خبره به څوک یقین او باور کولی شی ؟.

---

قَالَ هَلْ اَنْتُمْ مُّطَّلِعُوْنَ ﴿۵۴﴾

---

بیا وائی آیا یئ تاسی کتونکی (په دوزخ کښی چی د هغه منکر حال درښکاره شی).

---

**تفسیر:** یعنی هغه پر آخرت مسخره کوونکی سړی یقیناً په دوزخ کښی لویدلی دی راځئ چی له لری څخه خو لږ څه د هغه بد احوال ځان ته په عین‌الیقین سره هم معلوم کړو ـ دغه به د هم هغه جنتی مقوله وی. او ځینی وائی چی دغه مقوله د الله تعالیٰ ده ـ یعنی الله تعالیٰ به وفرمائی چی آیا تاسو غواړی، چی د هغه منکر بد احوال وګورئ.

---

فَاطَّلَعَ فَرَاٰهُ فِیْ سَوَآءِ الْجَحِیْمِ ﴿۵۵﴾ قَالَ تَاللّٰهِ اِنْ كِدْتَّ لَتُرْدِیْنِ ﴿۵۶﴾ وَلَوْلَا نِعْمَةُ رَبِّیْ لَكُنْتُ مِنَ الْمُحْضَرِیْنَ ﴿۵۷﴾

---

پس وبه ګوری (دغه قائل) پس وبه وینی هغه (منکر ملګری) په منځ د دوزخ

کښېي. ويه وائي (قائل منکر ته د ملامتيا دپاره) قسم دی په الله چې نژدې وې ته چې په کنده د دوزخ کښې مې وغورځوې او که نه وی انعام (فضل) د رب زما خامخا وم به زه له حاضر کړيو شويو (دوزخ ته سره له تا).

**تفسير:** يعني دغه جنتي ته د ده د ملګرې حال ورښوود کيږي چې بيخي د دوزخ منځ کښې به پروت وې د ده له ليدلو شخه به دې عبرت اخلي او د الله تعالىٰ فضل او احسان به ئې په ياد ورشي او هغه ته به داسې وائي «ای کمبخته! تا غوښته چه ما هم له خپل ځانه سره يار او ملګرې کړې» محض د الله تعالىٰ فضل او احسان زما لاس ونيو او له دغه مصيبت شخه ئې بچ کړم چې زما قد هم د اسلام د سمې لارې شخه ونه ښوئيده که نه نن به زما حال هم ستا په شان وو تا غوندې به زه هم نيول کيدم او په دغه دوزخ کښې به غورځول کيدم او دغه سخت دردناک عذاب به مې موندو.

أَفَمَا نَحْنُ بِمَيِّتِينَ ﴿٥٨﴾ إِلَّا مَوْتَتَنَا الْأُولَىٰ وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴿٥٩﴾ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿٦٠﴾ لِمِثْلِ هَٰذَا فَلْيَعْمَلِ الْعَامِلُونَ ﴿٦١﴾

آيا پس نه يو مونږ (جنتيان) مړه کيدونکي (بلکه نه يو) مګر همغه مرګ زمونږ ړومبنی (په دنيا کښې) او نه يو مونږ په عذاب کړی شوی. بيشکه چې دغه (ابدی خوندور حيات) خامخا هم دغه په مراد رسيدل بری ډير لوی دی. خاص دپاره د مثل د دی (نعمتونو) پس ښائي چې عمل وکړی عمل کوونکی (نه دپاره د جاه او مال د دنيا چې فانی دی).

**تفسير:** په دغه وخت کښې به له ډيره مسرته ووائي آيا دغه واقعي خبره نه ده بلکه ده چې ماسواء له هغه پخواني مرګه چه په دنيا کښې مونږ ته رسيدلی دی وروسته له دی نه مونږ له سره نه مرو او نه له سره له دغه عيش او عشرت او راحت شخه وځو او نه د تکليف ـ عذاب ـ ربړ (سختئ) او انديښنی کومه ويره او خرخښه (خطره) مونږ ته عائده کيږی. د الله تعالىٰ په فضل او کرم سره دغه زمونږ تنعم او رفاهيت به هميشه وی بيشکه چې لوی بری او کاميابی هم دی ته وائي او دغه دی هغه اعلىٰ مقصد چې ښائي د هغه د تحصيل دپاره هر قسم زحمتونه او تکاليف پر ځان واخيستل شي! او هر ډول (طريقه) ايثار او فدا کاری په دغه لاره کښې وکړی شي! اوس بيا الله تعالىٰ عظم برهانه فرمائي

أَذَٰلِكَ خَيْرٌ نُّزُلًا أَمْ شَجَرَةُ الزَّقُّومِ ﴿٦٢﴾ إِنَّا جَعَلْنَاهَا فِتْنَةً لِّلظَّالِمِينَ ﴿٦٣﴾
إِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخْرُجُ فِي أَصْلِ الْجَحِيمِ ﴿٦٤﴾

آيا دغه (نعماء د جنت) غوره دي له جهته د ميلمستيا (جنتيانو ته) يا ونه د زقوم (غوره ده دوزخيانو ته). بيشکه مونږ ګرځولې مو ده دغه ونه فتنه عذاب دپاره د ظالمانو. بيشکه چې دا ونه ده چې راووځي په بيخ د دوزخ کښې.

**تفسير:** پاس د جنتيانو د ميلمستيا تذکره وه ـ له دې ځايه د دوزخيانو د ميلمستيا وينا شروع کيږي. «زقوم» د کومې ونې نوم دی چې ډيره ترخه او خورا (ډير) بد خونده ده لکه چې په هندوستان کښې د (تهر) يا (سيهنډ) ونه هم دغسې ده. د دوزخ په منځ کښې الله تعالیٰ پخپل قدرت سره دغه ونه زرغونه کړې ده همغه ئې دلته په ﴿ إِنَّ شَجَرَتَ الزَّقُّومِ ﴾ سره موسومه کړې ده. هغه يوه بلا ده ظالمانو لره په آخرت کښې ځکه څه وخت چې دوزخيان له لوږې څخه ډير په عذاب او بيقراره شي نو هم دغه خوراک به دوی ته ورکاوه کيږي او د دوی له ستونې (حلق) ځينې د هغه له تيرولو يا تيريدو څخه وروسته له دې څخه يو مخصوص بد اثر پيدا کيږي چې له هغه ځينې يو ځان ته مستقل عذاب پر دوزخيانو نازل او مسلط کيږي. او په دنيا کښې هم د دې ونې تذکره يو شان ته ابتلا او ازموينه ده چې منکران د هغې له ذکره په قرآن کښې په ضلالت او ګمراهي کښې لويږي. ځينې وائي چې شنه ونه به د دوزخ په اور کښې څرنګه زرغونيږي ؟ حال دا ممکن دی چې د دې ونې مزاج ناري وي لکه د «سمندر» مزاج چې د اور په چنجي سره مشهور دی او د هندوستان د سهارنپور د بلدې په عمومي باغ کښې ځينې داسې ونې هم شته چې د هغو تربيت په اور سره کيږي ځينې وائي چې «زقوم» په فلاني لغت سره کجوره او کچ (خرما او مسکه) ته وائي او دوی به هم دغه کچ او کجوره پخپل مخ کښې کيښودل او خپلو نورو ملګرو ته به ئې ناري وهلې «راځئ چې زقوم سره وخورو».

طَلْعُهَا كَأَنَّهُ رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ ﴿٦٥﴾

وږی د هغې ګواکې سرونه دي د شيطانانو (په عمومي قباحت او کراهيت خپل سره).

**تفسير:** يعني د سخت بدرنګه شيطان په صورت يا ئې مارانو (منګورو) ته شياطين ويلي دي يعني د هغې وږي يا وانښکې به ئې د منګور د سرونو په شان وي لکه چې په هندوستان کښې په

تشبیه سره یوی ونی ته «ناګپهن» وائی یعنی د منګور پرانستلی خوله.

فَإِنَّهُمْ لَآكِلُونَ مِنْهَا فَمَالِئُونَ مِنْهَا الْبُطُونَ ﴿٦٦﴾ ثُمَّ إِنَّ لَهُمْ عَلَيْهَا لَشَوْبًا مِّنْ حَمِيمٍ ﴿٦٧﴾

پس بیشکه دوی خامخا خوړونکی وی له هغه (زقوم) شخه پس ډک کوونکی به وی له هغه (زقوم) د نسو خپلو (له جهته د ډیری لوږی نه). بیا بیشکه دوی ته پر هغه (ونه د زقوم) خامخا ګډول (ځښبول) به وی له اوبو یشولیو شویو شخه (چی کلمی به ئی توتی توتی کوی).

**تفسیر:** کله چی دوزخیان «زقوم» وخوری تږی کیږی دلته سختی تودی یشیدلی اوبه پر دوی ځښبولی کیږی چی د هغو په اثر د دوی کلمی توتی توتی لاندی تری لویږی ﴿ فَقَطَّعَ أَمْعَاءَهُمْ ﴾ جزء ۲۶ د محمد ۲ رکوع ۱۵ آیت اعاذنا الله منها

ثُمَّ إِنَّ مَرْجِعَهُمْ لَإِلَى الْجَحِيمِ ﴿٦٨﴾

بیا بیشکه ورتله د دوی به هرومرو (خامخا) ډیری د اور ته وی.

**تفسیر:** او کله چی دوی ډیر وږی کیږی نو له اوره یو ځنګ ته بیول کیږی او دغه خوراک او اوبه پر دوی خوړلی او ځښلی کیږی. نو بیا بیرته په هم دغه اور کښی غورځول کیږی. او دوی د دغه عذاب ځکه مستحق دی چی

إِنَّهُمْ أَلْفَوْا آبَاءَهُمْ ضَالِّينَ ﴿٦٩﴾ فَهُمْ عَلَىٰ آثَارِهِمْ يُهْرَعُونَ ﴿٧٠﴾

بیشکه چی دوی موندلی دی پلرونه خپل ګمراهان پس دوی په قدمونو (پلو) د هغوی پسی ځغلی منډی وهی (د هغوی تقلید کوی دلیل او برهان ته نه ګوری).

**تفسیر:** دغه وروستنی کفار د پخوانیو کفارو په ړوند تقلید ګمراه شول په کومه لاره چی پخوانی کفار تللی وو دوی هم پر همغو لارو په منډو شول او هغه کندو ژورو ته ئی له سره فکر او دقت

ونه کړ او د حجت متابعت ئې پرېښود.

وَلَقَدْ ضَلَّ قَبْلَهُمْ أَكْثَرُ الْأَوَّلِينَ ﴿٧١﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا فِيهِم مُّنذِرِينَ ﴿٧٢﴾
فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنذَرِينَ ﴿٧٣﴾ إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ ﴿٧٤﴾

او خامخا په تحقیق گمراه شوی وو پخوا له دوی نه اکثر د ړومبنیو (اممو څخه په تقلید او ترک د دلیل او خامخا په تحقیق لیږلی مو وو په دوی کښې ویروونکی (انبیاء له عذابه نو دوی هغه نه منل نو هلاک مو کړل) پس وگوره چې څرنگه وو عاقبت آخره خاتمه د ویرولیو شویو (له جهته د عذابه چې تول هلاک شول). مگر هغه بندگان د الله چې پاک کړی شوی وی (له عصیانه خلاص دی له عذابه).

**تفسیر:** یعنې په هره زمانه کښې له انجامه خبروونکی او له آخرته ویروونکی انبیاء راغلی دی. د هغو کسانو عاقبت او آخره خاتمه څرنگه شوه ؟ چې د هغوی خبرو ته ئې غوږ کښېنښود یواځې د الله تعالیٰ همغه مخصوص او منتخب بندگان له عذابه محفوظ او مصؤن پاتې شول چې له الله تعالیٰ څخه ویریدل او د آخرت فکر له هغوی سره وو. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی، «د ویری خبری خو گردو (تولو) ته اورولی کیږی خو تری همغه کسان پند او عبرت اخلی چې نیک وی، بدان تری تور خوری او بد تری وړی» وروسته له دی نه د ځینو منذرینو (ویرونکیو) او د ځینو منذرینو (ویرولیو شویو) قصې اورولی کیږی څو مکذبین تری عبرت واخلی او مؤمنین پری داده او متسلی شی.

وَلَقَدْ نَادَانَا نُوحٌ فَلَنِعْمَ الْمُجِيبُونَ ﴿٧٥﴾ وَنَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ مِنَ الْكَرْبِ
الْعَظِيمِ ﴿٧٦﴾ وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُ هُمُ الْبَاقِينَ ﴿٧٧﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ ﴿٧٨﴾
سَلَامٌ عَلَىٰ نُوحٍ فِي الْعَالَمِينَ ﴿٧٩﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿٨٠﴾ إِنَّهُ مِنْ
عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ ﴿٨١﴾ ثُمَّ أَغْرَقْنَا الْآخَرِينَ ﴿٨٢﴾

او خامخا په تحقیق غږ کړی وو مونږ ته نوح پس خامخا ښه جواب

ورکوونکی یو مونږ. او نجات ورکړ مونږ دغه (نوح) ته او اهل د دغه (نوح) ته له غمه ډیر لوی (چې ایذاء قوم او غرق وو) او وګرځوله مونږ اولاده د دغه (نوح) هم دوی باقي پاتی کیدونکی. او پری مو ښودل پر دغه (نوح مدح او ثناء) په وروستنیو خلقو کښې. سلام دی (له الله) پر نوح په عالمیانو کښې. بیشکه مونږ هم داسی (لکه نیکه جزاء د نوح نیکه) جزاء ورکوو محسنانو نیکوکارانو ته. بیشکه چې دغه (نوح) وو له (خاصو) بندګانو مؤمنانو زمونږ نه. بیا غرق کړل مونږ (قوم د ده بې له ده څخه) هغه نور (کفار په سؤال د نوح)،.

**تفسیر:** تقریباً تر یو زر کاله پوری نوح علیه السلام خپل قوم ته پند او نصیحت کاوه او دوی ئی د دوی په خیر او شر پوهول مګر د دوی شرارت او ایذاء رسول پرله پسی تزئید او ترقی موندله. بالاخر حضرت نوح علیه السلام له ډیر مجبوریت د خپل لیږونکی دربار ته متوجه شو او عرض ئی وکړ ﴿فَدَعَا رَبَّهُۥٓ أَنِّى مَغْلُوبٌ فَٱنتَصِرْ﴾ جزء ۲۷ د القمر (۱) رکوع (۱۰) آیت ای ربه! بیشکه چې زه پر مغلوب یم ـ ته له ما سره مدد او مرسته وکړه» نو وګورئ چې الله تعالیٰ د ده دعاء څرنګه مستجابه او په څه شان ئی ورسره مدد وکړ ؟ نوح علیه السلام ته ئی سره د ده له کورنی او اتباع د کفارو د هغه مسلسل او متوالی ضرر رسولو څخه نجات ورکړ ـ او د هولناک طوفان په وخت کښې ئی د ده حفاظت وکړ ـ او بیوائحې بیا د نوح علیه السلام له اولادی او د ذریاتو څخه ئی دنیا ودانه کړه ـ او تر څو چې دنیا ودانه وی د ده د خیر ذکر ئی پر ژبو جاری او باقي پریښود لکه چې تر نن پوری خلق پری سلامونه لیږی او په ټوله دنیا کښې د نوح علیه السلام پر نامه یادیږی دغه خو د نیکو بندګانو عاقبت او انجام شو له بل جانب د ده د دښمنانو حال او انجام ته وګورئ چې ټول یو ځای په ډیر زورور څپان او طوفان کښې داسی ډوب ـ مغروق او فنا شول چې د خپلو حماقتونو او سفاهتونو په سزا او نکبت ئی ټول خلق سپیره او ورک کړل او د دوی هیڅ نوم او نښان پاتی نشو.

**تنبیه:** د اکثرو علماوو قول دا دی چې نن د ټول جهان انسانان د حضرت نوح علیه السلام د دریو زامنو (سام ـ حام ـ یافث) اولاد دی. د «**جامع ترمذی**» له ځینو احادیثو څخه د دی ثبوت کیږی. والتفصیل یطلب من مظانه.

وَإِنَّ مِن شِيعَتِهِۦ لَإِبْرَٰهِيمَ ﴿۸۳﴾

او بیشکه یو له تابعانو د دغه (نوح) خامخا ابراهیم دی.

**تفسیر:** انبیاء علیهم السلام د دین په اصول کښې ټول سره یو او پر یوه سمه صافه لاره روان دی

او هر یو وروستنی نبی د پخوانیو انبیاوو تائید او تصدیق کوی نو ځکه حضرت ابراهیم علیه السلام ئی د حضرت نوح علیه السلام له دلی څخه وفرمایه ﴿ وَاِنَّ هٰذِهٖٓ اُمَّتُكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّاَنَا رَبُّكُمْ فَاتَّقُوْنِ ﴾ جزء ۱۸ د المؤمنون (٤) رکوع ۵۲ آیت

اِذْ جَآءَ رَبَّهٗ بِقَلْبٍ سَلِيْمٍ ﴿۸۴﴾

کله چی راغی (ابراهیم) رب خپل ته سره له زړه ښه سالم پاک بی له شکه.

**تفسیر:** یعنی له هر قسمه اعتقادی او اخلاقی رنځوری او مرض څخه ئی خپل زړه پاک کړ! او د دنیوی اندیښنو او خرخشو (خطرو) څخه ئی ځان خلاص کړ! سره له تواضع او انکسار د خپل رب په طرف راغب او متمائل شو! او خپل قوم ته ئی هم پند او نصیحت وکړ چی له کفر ـ شرک او بت پرستی او عصیان څخه خپل ځانونه وساتی.

اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖ مَاذَا تَعْبُدُوْنَ ﴿۸۵﴾ اَئِفْكًا اٰلِهَةً دُوْنَ اللّٰهِ تُرِيْدُوْنَ ﴿۸۶﴾

کله چی وویل (ابراهیم) پلار خپل او قوم خپل ته څه شی دی چی عبادت ئی کوئ تاسی. آیا په دروغو سره معبودان نور غیر له الله غواړئ تاسی (او عبادت ئی کوئ).

**تفسیر:** یعنی دغه د تیږی (ګټی) بتان څه شی دی او څه حیثیت لری چی تاسو ئی په دی اندازه عزت او احترام کوئ او له الله تعالیٰ څخه مو مخ اړولی او له بتانو سره مو خپل عابدانه مناسبات تړلی دی. آیا په واقع سره د دوی په لاس کښی د تول جهان واک (واکی) ، اختیار او حکومت دی ؟ او د کوم وړوکی یا لوی نقصان او نفعی مالکان دی ؟ آیا تاسی ولی له خپل حقیقی الله او مالک اجل واعلیٰ شأنه و اعظم برهانه څخه مخ ګرځوئ ؟ او د دغو باطلو او د دروغو حاکمانو او بتانو خوشامد او حمایت کوئ؟.

فَمَا ظَنُّكُمْ بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۸۷﴾

پس څه ګمان مو دی پر رب د عالمیانو (چی بی له عذابه به مو پریږدی بلکه

نه مو پریږدی).

**تفسیر:** یعنی آیا د ده په وجود کښې څه شک او شبهه شته ؟ آیا تاسی د هغه له شان او رتبې څخه بیخبره او ناپوهان یئ چې (معاذ الله) تیری (ګڼې) له هغه سره شریکان دروغ یا د ده له غضب او انتقام څخه ناواقفه یئ چې پر داسې ګستاخۍ او بې ادبۍ زړور شوی یئ ؟ بالاخر دا راوښیئ چې تاسی د رب العٰلمین په نسبت څرنګه افکار او خیالات لرئ ؟

فَنَظَرَ نَظْرَةً فِي النُّجُومِ ﴿٨٨﴾ فَقَالَ إِنِّي سَقِيمٌ ﴿٨٩﴾ فَتَوَلَّوْا عَنْهُ مُدْبِرِينَ ﴿٩٠﴾
فَرَاغَ إِلَىٰ آلِهَتِهِمْ فَقَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ ﴿٩١﴾

پس نظر ئې واچوه یو نظر په ستوریو کښې. پس وویل (ابراهیم) چې بیشکه زه ناجوړ یم. پس وګرځیدل هغوی له ابراهیم څخه حال دا چې شا کوونکی وو. پس پټ راغی (دغه ابراهیم) معبودانو د دوی ته پس وویل (ابراهیم دغو بتانو ته) چې آیا نه خورئ (تاسی له دغو درته ایښودلیو شویو طعامونو څخه).

**تفسیر:** د ابراهیم علیه السلام په زمانه کښې د نجوم علم ډیر مترقي وو. ده خپل قوم ته د ورښوودلو دپاره ستوریو ته وکتل او وی ویل چې زما طبیعت ښه نه دی په دنیا کښې به څوک داسې پیدا شی چې د هغه طبیعت بیخی له هر حیثیته ښه وی او څه نه څه داخلي یا خارجي عوارض ورلاحق نه وی ـ آیا دغه ربړ (تکلیف) او اندیښنه لږه وه چې دی به هره شیبه د خپل قوم پر دغه بد احوال او انجام پسې پخسیده یا ئې مطلب دا وو چې زه ناجوړه کیدونکی یم ـ ځکه چې ناروغي د مزاج د بې اعتدالۍ سره مرادفه ده او له موت څخه پخوا هر سړی ته هم دغه صورت وړاندې کیدونکی دی په هر حال د حضرت ابراهیم مراد صحیح وو. لیکن ستوریو ته کتلی د ده له داسې وینا څخه چې ﴿ إِنِّي سَقِيمٌ ﴾ خلق داسې وپوهیدل چې دی د نجوم په وسیله وپوهید چې ده نژدې ده چې رنځوریږم. دغه خلق د خپل یو لوی جشن په طرف د ښاره د باندې ګرد (ټول) سره روان وو، نو د ابراهیم علیه السلام د دې وینا له آوریدلو څخه هغوی د ده په نه ورتګ باندې د معذوریت په علت وپوهیدل او دی ئې یواځې په ښار کښې پریښود. د ابراهیم علیه السلام غرض له دغه بیل پاتې کیدلو څخه دغه وو څو یوه داسې موقع او فرصت ومومي چې په هغه کښې د دغو باطلو خدایانو یو خبر واخلي ـ نو دی په لویه بتخانه کښې ننوت او بتانو ته ئې خطاب وکړ «چې تاسې د دغو ماکولاتو او نذورو ځنې چې په مخ کښې مو پراته دی ولې نه خورئ ؟» سره له دې چې ستاسې ظاهري صورت د خوړونکیو په شان دی.

**تنبیه:** د پاس تقریر ځخه ظاهر شو چی د حضرت ابراهیم علیه السلام ﴿إِنِّي سَقِيمٌ﴾ ویل په واقع کښی دروغ نه وو. هو! له هغه ځخه اوریدونکی په کوم مطلب چی پوهیدلی دی د هغه په اعتبار خلاف‌الواقع وو ځکه په بعض الاحادیث الصحیحه کښی پر دغه د کذب د لفظ اطلاق کړی شوی دی حال دا چی دغه «کذب» نه بلکه فی الحقیقت «توریه» ده او داسی توریی د شرعی مصلحت په وخت کښی مباح دی لکه چی د هجرت په حدیث کښی رسول الله صلی الله علیه وسلم د «**ممن الرجل**» په جواب کښی «**من ماء**» وفرمایل او ابوبکر صدیق رضی الله عنه د یوه سوال په جواب کښی ویلی وو. «**رجل یهدینی السبیل**» هو! خرنگه چی دغه «توریه» هم د حضرت ابراهیم علیه السلام د لوړ (اوچت) مقام په لحاظ خلاف‌الاولیٰ وه نو ځکه د «**حسنات الابرار سیئات المقربین**» په اساس په حدیث کښی «ذنب» ورته ویلی شوی. والله اعلم.

---

## مَا لَكُمْ لَا تَنْطِقُونَ ﴿۹۲﴾

---

څه شوی دی پر تاسی چی خبری نه کوئ (او جواب نه راکوئ تاسی ما لره؟).

---

**تفسیر:** کله چی د بتانو له طرفه د خوړلو او نه خوړلو په نسبت ابراهیم علیه السلام کوم جواب وانه ورید نو وی ویل چی تاسی خبری ولی نه کوئ ؟ حال دا چی ستاسی اعضاء او صورت د انسانانو په شان جوړ کړی شوی دی لیکن وئی نشو کړی چی د انسانانو روح هم په تاسی کښی وغورځوی نو بیا د تعجب ځای دی چی خوړونکی ـ ښونکی ـ ویونکی انسانان د دغو بی‌حسه او بی‌حرکته د انسان په شان ښکاریدونکیو بتانو په مخ کښی ولی سر په سجده لویږی ؟ او خپل حاجات او مهمات تری غواړی ؟ نو کله ابراهیم علیه السلام چی د دغو دواړو پوښتنو هیڅ جواب وانه ورید نو.

---

## فَرَاغَ عَلَيْهِمْ ضَرْبًا بِالْيَمِينِ ﴿۹۳﴾

---

پس پټ ننووت پر دوی په وهلو سره په قوت (یا قسم یا ښی لاس).

---

**تفسیر:** یعنی په زور او قوت سره ئی ودرزول او گرد (تول) ئی سره مات او گوډ کړل. د انبیاء په سورت کښی دغه قصه مفصله تیر شوی ده چی ابراهیم علیه السلام داسی قسم یاد کړی وو ﴿وَتَاللّٰهِ لَأَكِيدَنَّ أَصْنَامَكُمْ﴾

فَاَقۡبَلُوۡۤا اِلَیۡهِ یَزِفُّوۡنَ ﴿۹۴﴾

پس مخامخ شول (متوجه شول نمرودیان) دغه (ابراهیم) ته چی رامنډی ئی وهلی (پسی لپاره د نیولو).

**تفسیر:** کله چی خلق له خپلی میلی او چرچی څخه بیرته راوګرځیدل که ګوری چی د دوی بتان ګوډ او مات توتی توتی پراته دی نو له قرائنو او اماراتو څخه وپوهیدل چی دغه کار برته (علاوه) له ابراهیم څخه بل چا نه دی کړی لکه چی ګرد (تول) د ده په چار چاپیر کښی سره راتول شول او ورته وویل چی دغه زمونږ معبودان دی ولی مات کړی دی.

قَالَ اَتَعۡبُدُوۡنَ مَا تَنۡحِتُوۡنَ ﴿۹۵﴾ وَاللّٰهُ خَلَقَكُمۡ وَمَا تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۹۶﴾

وویل (ابراهیم دوی ته جواباً) آیا عبادت کوئ تاسی د هغه چی تاسو ئی تراشوئ (او پخپلو لاسو ئی جوړوئ) حال دا چی الله پیدا کړی یئ تاسی او هغه (عمل) چی کوئ ئی تاسی (نو ولی د غیر الله عبادت کوئ).

**تفسیر:** یعنی هر چا چی دغه بتان مات کړی دی تاسو هغه پسی ولی ګرځئ تاسی پخپله ولی داسی چتی (بیکاره) او احمقانه حرکات کوئ ؟ آیا د تیږو (ګټو) بیځانه بت چی تاسی ئی پخپلو لاسو سره جوړوئ د عبادت لائق کیدی شی او له هغه الله تعالیٰ څخه مو چی ستاسی او ستاسی د اعمالو او د دغو تیږو (ګټو) او د نورو ګردو (تولو) موجوداتو خالق دی ولی شکولی دی؟ کله چی الله تعالیٰ د تولو موجوداتو خالق او رب دی نو تاسی ولی د نورو اشیاؤ په عبادت کښی مشغول او لګیا کیږئ ؟ حال دا چی دغه نور اشیاء هم مخلوق فی المخلوق دی آخر دغه څومره جهالت او ظلمت دی؟

قَالُوا ابۡنُوۡا لَهٗ بُنۡیَانًا فَاَلۡقُوۡهُ فِی الۡجَحِیۡمِ ﴿۹۷﴾ فَاَرَادُوۡا بِهٖ كَیۡدًا فَجَعَلۡنٰهُمُ الۡاَسۡفَلِیۡنَ ﴿۹۸﴾

وویل (کفارو) چی جوړه کړئ دغه (ابراهیم) ته یوه بناء (او له خسو ئی ډکه کړئ او اور ورواچوئ) پس وغورځوی دغه (ابراهیم) د اور په ډیری

کښې. پس اراده وکړه دوی له ابراهیم سره د فریب (دپاره د سوځولو) پس ومو ګرځول دوی لاندی (خوار سپک)

**تفسیر:** کله چې د ابراهیم علیه السلام د دغو معقولو خبرو جواب دوی ورنشو کړی نو داسی تجویز ئې سره غوته کړ چې راځئ یوه لویه آتشخانه (بهتی) جوړه کړو ـ او ابراهیم د هغی په اور کښې وغورځوو ـ ځو په دغه تدبیر د خلقو په زړونو کښې د بتانو عقیده بیرته تینګه شي ـ او په عین زمان کښې د دوی یو خوف او هیبت هم په زړونو کښې پیدا شي ـ او ګرد (تول) سره وپوهیږی چې د مخالفت انجام څرنګه کیږی ؟ څو وروسته له دی نه بل څوک له سره داسی یو حرکت ته جرأت او اقدام ونه کړی مګر الله تعالیٰ بیا هم دوی سپک او ذلیل وګرځول ـ او هغه ډیر زورور اور ئې پر خپل خلیل ګلزار کړ چې له هغه څخه علی رؤس‌الاشهاد دغه خبره ثابته شوه چې تاسی او ستاسی معبودان که تول سره خپل لاسونه یو کړئ ـ خو بیا هم د الله تعالیٰ د یوه مخلص بنده یو ویښته ته هم څه ضرر او زیان نشی رسولی او له سره د دی خبری مجال نه لری چې د ابراهیم علیه السلام د رب او د الله تعالیٰ له اجازی څخه ماسواء یو ویښته ئې هم وسوځوئ !.

وَقَالَ اِنِّیْ ذَاهِبٌ اِلٰی رَبِّیْ سَیَهْدِیْنِ ﴿۹۹﴾

او وویل (ابراهیم) بیشکه زه تلونکی یم (مامور به د) رب خپل ته ژر به لاره راوښیی ماته (رب زما).

**تفسیر:** کله چې ابراهیم علیه السلام له خپل قوم څخه مأیوس او ناامیده شو ـ او پلار ئې هم پری سختئ او شدت شروع کړ ـ نو د هجرت اراده ئې وفرمایله او الله تعالیٰ د شام لار ورته وروښوده.

رَبِّ هَبْ لِیْ مِنَ الصّٰلِحِیْنَ ﴿۱۰۰﴾

ای ربه زما راوبښه ماته (ځوی) له صالحانو (چې معین وی په طاعت د تا او مین وی په غربت کښې زما)

**تفسیر:** یعنی کله چې تبر او قوم او کور کهول می پریښود نو ښه اولاد راته عطاء کړه چې په دینی چارو کښې زما مدد وکړی ـ او د دوی سلسلی ته دوام ورکړه.

فَبَشَّرۡنٰهُ بِغُلٰمٍ حَلِیۡمٍ ﴿۱۰۱﴾

پس زیری وکړ مونږ په دغه (ابراهیم) په داسی هلک چی ډیر تحمل والا به وی.

**تفسیر:** یعنی له دی نه معلوم شو چی حضرت ابراهیم علیه السلام د اولاد په نسبت چی دعاء کړی وه ـ او د الله تعالیٰ په دربار کښی قبوله شوه نو هم دغه هلک ئی د الله تعالیٰ په دربار کښی د قربانی په شان ورووړاندی کړ، له موجوده توریت څخه هم ثابت دی کوم هلک چی ابراهیم علیه السلام ته د ده د دعا په اثر ورعطا شوی ؤ هغه هم دغه حضرت اسمٰعیل علیه السلام دی. او ځکه ئی نوم اسمٰعیل علیه السلام کیښود شو چی معنی ئی «واورید الله» ده لکه چی اسمٰعیل له دوو لفظونو څخه جوړ دی چی «**سمع** ـ اوریدل» او «ایل ـ الله» دی یعنی الله تعالیٰ حضرت ابراهیم علیه السلام دعا واوریده او مستجابه ئی وګرځوله او دغه هلک ئی ورعطاء کړ ـ په «توریت» کښی دی چی الله تعالیٰ ابراهیم ته وویل چی د اسمٰعیل علیه السلام په باره کښی ماله تا واوریده ـ نو په دی بناء په دغه آیت کښی چی د هغه ذکر دی هغه حضرت اسمٰعیل علیه السلام دی حضرت اسحٰق علیه السلام نه دی. برسیره په دی د ذبحی د قصی د ختمولو څخه وروسته د حضرت اسحٰق علیه السلام بشارت جلا (جدا) ورکړی شوی دی. ﴿ وَبَشَّرۡنٰهُ بِاِسۡحٰقَ نَبِیًّا ﴾ معلوم شو چی په ﴿ فَبَشَّرۡنٰهُ بِغُلٰمٍ حَلِیۡمٍ ﴾ کښی علاوه پر اسحٰق علیه السلام د بل کوم هلک بشارت مذکور دی. د اسحٰق علیه السلام د بشارت ورکولو سره د هغه د نبی ګرځولو زیری هم ورکړی شوی دی. او د «هود» په سورت کښی له حضرت اسحٰق علیه السلام سره د حضرت یعقوب علیه السلام بشارت هم ورکړی شوی دی چی د حضرت اسحٰق علیه السلام ځوی دی ﴿ وَمِنۡ وَّرَآءِ اِسۡحٰقَ یَعۡقُوۡبَ ﴾ (د هود ۷ رکوع) بیا نو څرنګه ګمان کاوه شی چی حضرت اسحٰق علیه السلام به ذبیح وی ګواکی پخوا له نبوت او د اولاد له عطاء څخه ذبیح کیږی نو ځکه لا محاله د دی خبری تسلیم ضروری کیږی چی هم دغه حضرت اسمٰعیل علیه السلام ذبیح الله دی چی د ده په متعلق د ولادت د بشارت په وخت کښی نه د نبوت او نه د اولاد د اعطاء وعده کړی شوی وه. هم دغه ده چی د قربانی یادګار او د هغه متعلقه رسوم برابر په بنی اسمٰعیل علیه السلام کښی د وراثت په طور منتقل او ادامه لری. او نن هم د بنی اسمٰعیل علیه السلام هم دغه روحانی اولاد یعنی مونږ مسلمانان د همغه مقدس یادګار حاملین یو. په موجوده توریت کښی تصریح ده چی د قربانی مقام «مورا» یا «مریا» ؤ یهودیان او نصرانیان د دغه ځای په پته ښودلو کښی له هغو احتمالاتو څخه کار اخیستی دی چی له مطلبه ډیر لری دی. حال دا چی نهایت اقرب او بی تکلفه خبره دا ده چی دغه ځای «مروه» دی چی بیخی له کعبی شریفی سره نژدی واقع او هغه ځای دی چی هلته معتمرین د بین الصفا والمروة له سعیی وروسته حلالیږی. او ممکن دی چی په ﴿ بَلَغَ مَعَهُ السَّعۡیَ ﴾ کښی د هم دغی سعی په طرف اشاره وی. د امام مالک په موطا کښی یو روایت دی چی «رسول الله صلی الله علیه وسلم د مروی په طرف اشاره وکړه او وی

ویل چی دغه د قربانی ځای دی» غالباً دغه اشاره د ابراهیم او اسمٰعیل علیه السلام هم دغه د قربانی ځای ته ده که نه د دوی په زمانه کښی خو خلق عموماً له مکی معظمی څخه دری میله لری په «منیٰ» کښی قربانی کوله لکه چی تر نن پوری همغه سنت هملته جاری دی. معلومیږی چی د ابراهیم علیه السلام د قربانی اصلی ځای «مروه» ؤ بیا حجاجو د ذبائحو د کثرت په ملحوظ هغه «منیٰ» ته منتقل کړ. په عظیم‌الشان قرآن کښی هم ﴿ هَدْيًا بٰلِغَ الْكَعْبَةِ ﴾ او ﴿ ثُمَّ مَحِلُّهَآ اِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيْقِ ﴾ مذکور دی چی له همغه څخه د کعبی شریفی نژدیوالی څرګندیږی (ښکاره کیږی) والله اعلم. په هر حال قرائن او آثار هم دغه راښیی چی «ذبیح الله» همغه اسمٰعیل ؤ چی په مکی معظمی کښی اوسیده او هم هغلته د ده نسل خور شوی دی. په تورات کښی دغه هم مصرح ده چی «حضرت ابراهیم علیه السلام ته حکم ورکړ شو چی خپل یو نازولی محبوب ځوی قربانی کړه!» او دغه مسلم دی چی حضرت اسمٰعیل علیه السلام پر حضرت اسحٰق علیه السلام لوی ؤ نو بیا حضرت اسحٰق علیه السلام د حضرت اسمٰعیل علیه السلام په موجودیت کښی څرنګه د حضرت ابراهیم علیه السلام یواځی یو ځوی کیدی شی؟ عجیبه خبره لا دا ده چی دلته د ابراهیم د دعا په جواب کښی د هغه هلک بشارت چی ورکړی شوی دی هغه ته ئی «غلام حلیم» ویلی دی لیکن د حضرت اسحٰق په بشارت کښی کله چی ابتداء پرښتو د الله تعالیٰ له جانبه زیری ورکاوه په «غلام علیم» سره تعبیر کړی شوی دی ـ د الله تعالیٰ له خوا په لوی قرآن کښی د «حلیم» لفظ پر حضرت اسحٰق یا بل کوم نبی نه دی اطلاق کړی شوی بلکه دغه لقب یواځی پر هم دغه هلک چی د همغه د ولادت بشارت دلته ورکړی شوی دی او د ده پر پلار حضرت ابراهیم اطلاق شوی دی لکه چی د هود په ۷ رکوع ۷۵ آیت کښی ﴿ اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ لَحَلِيْمٌ اَوَّاهٌ مُّنِيْبٌ ﴾ راغلی دی او د توبی په (۱٤) رکوع ۱۱٤ آیت کښی ﴿ اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ لَاَوَّاهٌ حَلِيْمٌ ﴾ مذکور دی چی له هغه څخه ظاهریږی چی هم دغه پلار او ځوی په هم دغه خاص لقب سره ملقب کیدلو وړ (لائق) او مستحق دی. د «حلیم» او د «صابر» مفهوم سره نژدی دی . د هم دغه «غلام حلیم» له ژبی څخه دلته داسی نقل فرمائی ﴿ سَتَجِدُنِيْٓ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ الصّٰبِرِيْنَ ﴾ د انبیاء په (٦) رکوع ۸۵ آیت کښی ئی په صاف دول (طریقه) سره فرمایلی دی ﴿ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِدْرِيْسَ وَذَا الْكِفْلِ كُلٌّ مِّنَ الصّٰبِرِيْنَ ﴾ ښائی له هم دغه سببه ئی د «مریم» په سورت کښی حضرت اسمٰعیل ته «صادق الوعد» فرمایلی وی چی د ﴿ سَتَجِدُنِيْٓ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ الصّٰبِرِيْنَ ﴾ وعده ئی په څه ښه شان سره تصدیق او رښتیا کړه. په هر حال د حلیم ـ صابر او صادق الوعد د القابو مصداق همغه یو شی معلومیږی چی حضرت اسمٰعیل علیه السلام دی ﴿ وَكَانَ عِنْدَ رَبِّهٖ مَرْضِيًّا ﴾ د «البقرة» په سورت کښی د کعبی شریفی د تعمیر په وخت کښی د حضرت ابراهیم او اسمٰعیل علیهما السلام له ژبی څخه کومه دعا چی نقل فرمایلی شوی ده په هغی کښی دغه الفاظ هم شته ﴿ وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَآ اُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّكَ ﴾ بعینه د هغه مسلم تثنیه هم دلته هم د قربانی په ذکر کښی داسی اداء فرمائی چی ﴿ فَلَمَّآ اَسْلَمَا ﴾ او د هم دغو دواړو ذریات ئی په خصوصی دول (طریقه) په «مسلم» سره ملقب وفرمایل بیشکه چی له دی نه اسلام ـ تفویض ـ صبر او تحمل بل

به څه وی؟ چی دغو دواړو پلار او زوی د ذبحه کولو او د ذبحه کیدلو په وخت کښی له خپلو ځانونو څخه راښکاره او څرګند کړل هم دغه د همغه «أسلما» صله ده چی الله تعالیٰ د دغو دواړو صوری او معنوی زریات ئی د ﴿ اُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّكَ ﴾ وګرځول فلله الحمد علیٰ ذلک والشکر له.

فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يٰبُنَيَّ إِنِّيٓ أَرٰى فِي الْمَنَامِ أَنِّيٓ أَذْبَحُكَ فَانْظُرْ مَاذَا تَرٰى ۚ قَالَ يٰٓأَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ ۖ سَتَجِدُنِيٓ إِنْ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ الصّٰبِرِينَ ﴿۱۰۲﴾

پس کله چی ورسید اسمٰعیل سره له پلار خپل حد د سعی ته وویل (ابراهیم) ای ځویکیه زما بیشکه زه پرله پسی وینم په خوب کښی داسی چی بیشکه زه ذبحه کوم تا پس ته هم نظر وکړه چی څرنګه مصلحت ګڼی؟، وویل (اسمٰعیل) ای پلاره زما وکړه ته همغه چی حکم ئی دربانډی شوی دی ژر ده چی وبه مومی ته ما که اراده فرمایلی وی الله له صبر کوونکیو (په حکم د الله).

**تفسیر:** څه وخت چی حضرت اسمٰعیل علیه السلام لوی ځلمکی (ځنکی) او د دغه کار وړ (لائق) او قابل شو چی د خپل پلار په مخ کښی منډی ووهی او ورسره وځغلی او د ده په کارونو کښی ورسره سعی ـ کوښښ وکړی او زیار (محنت) وکړی نو په دغه وخت کښی حضرت ابراهیم علیه السلام خپل خوب دغه خپل په زړه پوری یو ځوی ته ووایه څو د ده افکار او خیالات ځان ته معلوم کړی. چی په خوښی سره دغه کار ته تیاریږی ؟ که جبر او اکراه ته هم وار رسیږی؟ وائی چی حضرت ابراهیم علیه السلام پرله پسی دری شپی هم دغسی خوب لیده په دریمه ورځ کښی ئی خپل ځوی ته هم د هغه اطلاع ورکړه چی ځوی ئی هم بلا توقفه هغه ومنله. او وی ویل «بابا جانه! نو ولی ډیل او ځنډ (تاخیر) کوئ ؟ هر هغه حکم چی لوی مالک له جانبه تاسی ته شوی دی، ژر تر ژره ئی اجراء او نافذ کړئ! په دغسی کارونو کښی هیڅ صلاح او مشوری ته ضرورت نشته. د الله تعالیٰ د حکم په امتثال کښی نه ښائی چی د پلارتوب شفقت مانع شی زما له جانبه بیخی مطمئن او ډاډه اوسئ! ان شاء الله تاسی به وګورئ چی زه به څه صبر او تحمل سره د الله تعالیٰ د دغه حکم تعمیل کوم». په زرګونو رحمتونه دی وی پر دغسی پلار او ځوی بانډی؛

فَلَمَّآ أَسْلَمَا وَتَلَّهُ لِلْجَبِينِ ﴿۱۰۳﴾

پس کله چې غاړه کیښوده (دواړو حکم د الله ته) او وائی چاوه دغه (اسمٰعیل) پر ښی) اړخ د ده.

**تفسیر:** (یا وائیچوه پرمخې پر وچولی د ده) پرمخې ئې ځکه واچوه څو د څوی مخ ورته مخامخ نشی، نه چې د پلارولئ مینه او محبت په جوش راشي او د دغه حکم په تعمیل کښې څه ډیل او ځنډ (تاخیر) واقع شي وائي چې دغه خبره څوی خپل پلار ته ور وښوده. زیات له دی نه الله تعالیٰ نه دی فرمایلي چې څه کیفیت او ماجرا تیره شوه ـ یعنی هغه احوال په ویلو او لیکلو کښې نه راځي چې د دوی پر زړونو تیر او پر ملائکو طاري شوی دی.

وَنَادَيْنَٰهُ أَن يَٰٓإِبْرَٰهِيمُ ﴿١٠٤﴾ قَدْ صَدَّقْتَ ٱلرُّءْيَآ ۚ

او غږ وکړ مونږ ده ته داسې چې ای ابراهیم! په تحقیق رښتیا کړ تا خوب (خپل او ومو مانه هغه له تا)،

**تفسیر:** یعنی بس! بس!! پریږده !!! تا رښتیا کړ خوب خپل! او قبوله می کړه دغه قربانی ستا! زمونږ مقصود خو ستا د زوی د حلالولو نه دی! او تش مو ستا ازموینه او امتحان منظور ؤ چې ته به هغه کښې پوره بریالی (کامران) او کامیاب ووتی.

إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٠٥﴾ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلْبَلَٰٓؤُا۟ ٱلْمُبِينُ ﴿١٠٦﴾

بیشکه مونږ هم داسې (لکه نیکه جزاء د ابراهیم نیکه) جزا ورکوو (نورو محسنانو نیکوکارانو ته بیشکه چې هم دا (ذبحه) خامخا هم دا ابتلاء ازموینه وه ښکاره.

**تفسیر:** یعنی داسې سخت او مشکل حکمونه د امتحان او ازموینې دپاره صادروو ـ او بیا هغه مستقیم او ثابت قدم د هغه په تعمیل کښې ګرځوو ـ بیا ورته لوئی درجې ورکوو. په توریت کښې راغلی دی لکه چې ابراهیم علیه السلام وغوښت چې خپل زوی قربانی کړی نو یوی پرښتی ورغږ کړ چې خپل لاس دی ونیسه! نورو پرښتو ورته داسې الفاظ وویل «الله تعالیٰ وائی کله چې تا داسې کار وکړ ـ او خپل یو نازولی زوی دی ونه ژغوره (منع نه کړو) زه به تاته برکت درکړم ـ او ستا نسلونه به د آسمانی ستوریو په شان او د بحر د ساحل د شګو په شان خواره واره کړم» (توریت تکوین اصحاح ۲۲ آیت دا).

وَفَدَيْنٰهُ بِذِبْحٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۰۷﴾

او فدیه مو ورکړه دغه (اسمٰعیل) ته په مذبوحی لوئی (جنتی پسه سره).

**تفسیر:** یعنی د لوئی درجی چی له جنته راغلی وه. یا ډیره قیمتداره یا سمینه ـ څربه او تیار بیا هم دغه د قربانی رسم د حضرت اسمٰعیل علیه السلام د عظیم‌الشان یادګار په شان د تل دپاره همیشه قائم او دائم پاتی شو.

وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْاٰخِرِيْنَ ﴿۱۰۸﴾ سَلٰمٌ عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ ﴿۱۰۹﴾

او باقی پریښود مونږ پر ده په وروستنیو خلقو دا چی سلام دی پر ابراهیم (یا باقی پریښود مونږ پر ابراهیم ښه ثناء او مدح په وروستنیو خلقو تر قیامت پوری.

**تفسیر:** سلام دی زمونږ پر ابراهیم باندی یعنی مونږ تر نن پوری حضرت ابراهیم علیه السلام په عزت او عظمت او حرمت سره یادوو علیٰ نبینا و علیه الف سلام وتحیة.

كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۱۰﴾ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۱۱﴾

هم داسی (په مثل د نیکه جزاء د ابراهیم نیکه) جزاء ورکوو (نورو محسنانو نیکوکارانو ته بیشکه چی دی له هغو (خالصو) بندګانو زمونږ دی چی (خاص) مؤمنان دی.

**تفسیر:** یعنی حضرت ابراهیم علیه السلام زمونږ له اعلیٰ درجه ایماندارو بندګانو څخه دی.

وَبَشَّرْنٰهُ بِاِسْحٰقَ نَبِيًّا مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۱۲﴾

او زیری ورکړ مونږ دغه (ابراهیم) ته (پس له اسمٰعیل) په اسحٰق سره چی نبی و له صالحانو.

**تفسیر:** معلوم شو چی هغه ړومبنی زیری د اسمٰعیل علیه السلام ؤ او د ذبحی د قصی ګرده (توله) واقعه پر هغه مبنی وه.

وَبٰرَكْنَا عَلَيْهِ وَعَلٰٓى اِسْحٰقَ ۭ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ وَّظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ مُبِيْنٌ ﴿۱۱۳﴾

او برکت اچولی ؤ مونږ پر دغه (اسمٰعیل) او پر اسحٰق (په تکثیر د اولاد) او له اولادی د دی دواړو څخه ځوک نیکو کار دی (په ایمان او طاعت سره) او ځوک ظالم دی په ځان خپل ښکاره (په کفر او معصیت سره)

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه فرمائی دغه دواړه ئی وویل د ابراهیم علیه السلام دغو دواړو ځامنو ته. د دغو دواړو ډیر اولاد خور شو. د اسحٰق علیه السلام په اولاد کښی د بنی اسرائیلو انبیاء پیدا شول. او د اسمٰعیل علیه السلام له اولادی څخه عرب متشکل شول چی د هغوی له منځه زمونږ رسول کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم مبعوث شوی دی. یعنی د دوی اولاد (ځوځات) ټول سره یو شان نه دی. په دوی کښی داسی نیکان او پاکان هم شته چی د خپلو آباؤ او اجدادو نومونه روښانه او ژوندی کوی. او ډیر بدان او خراب سری هم په کښی شته چی د خپلو بدو عملونو او بدو چارو لامله (له وجی) هغوی ته د دغو معظمی کورنی ننګ ویلی شی. او د بدو سزاؤ وړ (لائق) او مستحق دی.
**تنبیه:** عموماً مفسرینو د ﴿وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا﴾ ضمیر د ابراهیم او اسحٰق په طرف راجع کړی دی مګر حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه هغه د حضرت اسمٰعیل او اسحٰق په طرف راجع کړی او مضمون ته ئی زیات وسعت ورکړی دی.

وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلٰى مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿۱۱۴﴾ وَنَجَّيْنٰهُمَا وَقَوْمَهُمَا مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ﴿۱۱۵﴾

او خامخا په تحقیق احسان مو کړی ؤ پر موسیٰ او هارون او نجات مو ورکړ دغو دواړو ته او قوم د دوی ته له غمه ډیر لوی (ویر اندیښنی) نه.

**تفسیر:** یعنی د فرعون او د ده د قوم له ظلم او ستم څخه ئی نجات ورکړ او د قلزم له بحیری څخه ئی پوری ایستل په ډیره آسانی سره.

وَنَصَرْنٰهُمْ فَكَانُوْا هُمُ الْغٰلِبِيْنَ ﴿۱۱۶﴾

او نصرت مو ورکړ دغو (سبطیانو) ته پس ؤ هم دوی بریالیان (کامیاب) (پر قبطیانو دښمنانو خپلو).

**تفسیر:** یعنی فرعون او د فرعونیانو لاؤ لښکر ئی ګرد (تول) سره غرق او ډوب کړل ـ او بنی‌اسرائیل ئی غالب ـ مظفر او منصور وګرځول او د هالکینو قبطیانو د املاکو او اموالو وارثان ئی هم دغه سبطیان او اسرائیلیان کړل.

وَاٰتَیۡنٰهُمَا الۡکِتٰبَ الۡمُسۡتَبِیۡنَ ﴿۱۱۷﴾

او ورکړی مو دی دغو دواړو (ورونو) ته کتاب (توریت) ډیر ښه بیانوونکی (شرائعو لره).

**تفسیر:** یعنی توریت شریف چی په هغه کښی د الله تعالیٰ احکام په ډیر تفصیل او ایضاح سره بیان شوی دی.

وَهَدَیۡنٰهُمَا الصِّرَاطَ الۡمُسۡتَقِیۡمَ ﴿۱۱۸﴾

او ښودلی مو وه دغو دواړو (ورونو) ته لاره سمه (رسوونکی مقصود ته).

**تفسیر:** یعنی په ښو افعالو او اقوالو کښی مونږ هغوی ته ثبات او استقامت ور په برخه کړل! او پر سمه صافه لاره مو دوی رهی (روان) کړل! او هغه اوصاف او صفات مو ورعطاء کړل چی د انبیاؤ د عصمت له لوازمو څخه دی.

وَتَرَکۡنَا عَلَیۡهِمَا فِی الۡاٰخِرِیۡنَ ﴿۱۱۹﴾ سَلٰمٌ عَلٰی مُوۡسٰی وَهٰرُوۡنَ ﴿۱۲۰﴾ اِنَّا کَذٰلِکَ نَجۡزِی الۡمُحۡسِنِیۡنَ ﴿۱۲۱﴾ اِنَّهُمَا مِنۡ عِبَادِنَا الۡمُؤۡمِنِیۡنَ ﴿۱۲۲﴾

او پری ښود مونږ په دی دواړو (ورونو) په وروستنیو خلقو کښی دا چی سلام دی (د الله له طرفه) پر موسیٰ او هارون بیشکه مونږ هم داسی (په مثل د نیکی جزاء د موسیٰ او هارون نیکه) جزاء ورکوو (نورو) محسنانو نیکوکارانو ته بیشکه دوی دواړه له هغو (خالصو) بندګانو زمونږ دی چی

(خاص) مؤمنان دی.

**تفسیر:** یعنی زموږ د کاملو ایماندارانو بندګانو څخه دی.

وَإِنَّ إِلْيَاسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٢٣﴾ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٢٤﴾
أَتَدْعُونَ بَعْلًا وَتَذَرُونَ أَحْسَنَ الْخَالِقِينَ ﴿١٢٥﴾

او بیشکه الیاس خامخا له مرسلانو څخه دی. کله چې وئی ویل قوم خپل ته آیا نه ویریږئ (له عذابه د الله څخه) آیا تاسی عبادت کوئ د (هغه بت چې نوم ئی) بعل (دی) او پریږدئ تاسی (عبادت) د ښه پیدا کوونکی

**تفسیر:** د ځینو په نزد حضرت الیاس علیه السلام د حضرت هارون علیه السلام له نسله دی. الله تعالیٰ الیاس علیه السلام د شام په ملک کښی یوه ښار ته چې د «بعلبک» په طرف کښی ؤ ولیږه د هغه خلق د هغه بت په عبادت کښی مشغول ؤ چې د «بعل» په نامه سره مشهور ؤ.
حضرت الیاس علیه السلام دوی د الله تعالیٰ له قهره او غضبه وویرول او د بت پرستی له بد انجام او عاقبت څخه ئی پوه او خبردار کړل او وئی ویرول.

اللَّهَ رَبَّكُمْ وَرَبَّ آبَائِكُمُ الْأَوَّلِينَ ﴿١٢٦﴾

چې الله دی رب ستاسی او رب د هغو پلرونو ستاسی چې ړومبی ؤ.

**تفسیر:** یعنی هسی خو په دنیا کښی بنیآدمان هم د تحلیل ـ ترکیب ـ تعدیل ـ تحویل او نورو وسائلو په ذریعه ظاهراً ډیر شیان جوړوی ـ مګر ډیر ښه خالق ـ صانع او جوړونکی همغه پاک الله دی چې د ټولو اصولو ـ فروعو ـ جواهرو ـ اعراضو ـ صفاتو ـ موصوفاتو او نورو مخلوقاتو حقیقی خالق دی. هغه لوی ذات چې تاسی او ستاسی پلرونه او نیکونه ئی پیدا کړی دی نو بیا به دغه کار چیری جائز او روا وی چې هغه ﴿أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ﴾ پریږدئ او د «بعل» بت په عبادت کښی بوخت (مشغول) او لګیا شئ او له هغه څخه امداد او مرسته (مدد) وغواړئ چې په ظاهری ډول (طریقه) سره د یوی ذری د پیدا کولو قوت او قدرت هم نه لری بلکه د هغه وجود د ده د منونکیو د کار او زحمت رهین دی چې د خپلو دغو عابدانو په لاسونو کښی څرنګه چې د دوی زړه غوښت جوړ شوی او پخپل دغه ځای کښی درولی شوی دی.

فَكَذَّبُوهُ فَإِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ ﴿١٢٧﴾

پس تکذیب وکړ دوی د هغه پس بیشکه دوی به خامخا حاضر کړی شوی دی (دوزخ ته).

**تفسیر:** یعنی د دروغجنولو سزا دوی ته هرومرو (خامخا) وررسیږی.

إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ ﴿١٢٨﴾

مګر تکذیب ونه کړ (د دوی هغو) بندګانو د الله چی مخلصان دی.

**تفسیر:** یعنی نور ګردو (تولو) هغه ته د دروغو نسبت وکړ مګر د الله تعالیٰ مخلص او غوره بندګانو د هغه تصدیق وکړ نو ځکه له سزا څخه ئی نجات وموند.

وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ ﴿١٢٩﴾ سَلَامٌ عَلَىٰ إِلْ يَاسِينَ ﴿١٣٠﴾

او پری ښود مونږ پر دغه (الیاس مدح او ثناء) په وروستنیو خلقو کښی سلام دی (له الله) پر ال یاسین.

**تفسیر:** «الیاس» ته «الیاسین» هم وائی لکه چی «طور سینا» ته «طورسینین» هم ویلی کیږی. یا به له «الیاسین» څخه د حضرت الیاس متبعین مراد وی. او ځینی «آل یاسین» ئی هم لولی نو په دغه تقدیر به «یاسین» د هغوی د پلار نوم وی یا به د هغوی نوم «یاسین» او د «آل» لفظ به مقحم او زائد وی لکه چی په «**کماصلیت علیٰ آل ابراهیم**» کښی یا چی په «**اللّهم صلّ علیٰ آل ابی اوفی**» کښی دی والله اعلم.

إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿١٣١﴾ إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٣٢﴾
وَإِنَّ لُوطًا لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٣٣﴾ إِذْ نَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ أَجْمَعِينَ ﴿١٣٤﴾ إِلَّا
عَجُوزًا فِي الْغَابِرِينَ ﴿١٣٥﴾

بیشکه مونږ هم داسی (په مثل د نیکه جزاء د الیاس نیکه) جزاء ورکوو
نیکو بندګانو ته بیشکه چی دی له هغو بندګانو زمونږ دی چی (خاص)
مؤمنان دی. او بیشکه چی لوط وو خامخا له مرسلانو څخه کله چی نجات
ورکړ مونږ ده ته او اهل د ده ته تولو ته مګر یوی زړی ښځی ته چی وه دا
په باقی پاتی کیدونکیو (د عذاب) کښی

**تفسیر:** یعنی د ده ښځه چه له معذبینو سره تعلق او ارتباط درلود (لرلو).

ثُمَّ دَمَّرْنَا الْاٰخَرِيْنَ ﴿۱۳۶﴾

بیا مونږ ګرد (تول) سره هلاک کړل نور (کفار).

**تفسیر:** یعنی ماسواء له لوط علیه السلام څخه او د ده له کورنی څنی نور د هغو کلیو پر ګردو (تولو) هستیدونکیو باندی د دوی کلی واړولی شول. دغه قصه پخوا له دی نه په څو ځایونو کښی په تفصیل سره لیکلی شوی ده.

وَاِنَّكُمْ لَتَمُرُّوْنَ عَلَيْهِمْ مُّصْبِحِيْنَ ﴿۱۳۷﴾ وَبِالَّيْلِ ۭ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۳۸﴾

او بیشکه چی تاسی خامخا تیریږئ (ای اهل د مکی) پر دوی په دی حال
کښی چی صبا کوونکی ئی (د ورځی) او د شپی (یعنی هر وخت پری
تیریږئ) آیا پس عقل نه چلوئ (چی عبرت تری واخلئ).

**تفسیر:** دغه ئی مکیانو ته فرمایلی دی څکه چی کوم قوافل چی له معظمی مکی څخه شام ته تلل او راتلل د دوی د لاری په منځ کښی د لوط علیه السلام د قوم په بل مخ اوښتیو کلیو به ئی سترګی لګیدلی. یعنی سره له دی چی دوی تل ترتله پر همغو ورانو قریو تیریدل او د عذاب او عبرت علائم او هغه د قدرت لوئ نښی ئی لیدلی خو بیا هم دوی ته هیڅ پند او عبرت له هغو څخه نه حاصلیده. آیا دوی پر دی نه پوهیږی کوم حال او انجام چی د بل یو نافرمانه قوم شوی وی همغسی احوال پر بل یو نافرمانه قوم هم راتلونکی دی.

وَاِنَّ يُوْنُسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۳۹﴾ اِذْ اَبَقَ اِلَى الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ ﴿۱۴۰﴾ فَسَاهَمَ
فَكَانَ مِنَ الْمُدْحَضِيْنَ ﴿۱۴۱﴾ فَالْتَقَمَهُ الْحُوْتُ وَهُوَ مُلِيْمٌ ﴿۱۴۲﴾

او بیشکه چی یونس خامخا له مرسلانو څخه دی. لکه چی وتښتید (له خپل قوم څخه) طرف د هغی بیړی ډکی ته پس قرعه ئی واچوله (له دغو خلقو د بیړی (سره) دری کرته) پس شو له مغلوب کړیو شویو (په قرعه کښی بیا نو ځان ئی سیند ته واچوه). پس یوه مړی کړ دغه (یونس) لره مهی کب حال دا چی دی پخپله د خپل ځان ملامت کوونکی وو (په دغه بلا اذن راتلو کښی).

**تفسیر:** یعنی بیړی د سیند په منځ کښی په چورلیدلو شروع وکړه ـ پر بیړی سورو خلقو وویل چی زمونږ پر دغی بیړی کښی داسی کوم مریی هم سور دی چی له خپل باداره تښتیدلی دی نو د ګردو (تولو) پر نامه څو ځلی پچی واچولی شوی خو په هر ځلی به پچه (قرعه) د هم دغه یونس علیه السلام پر نامه خته. دغه قصه د «یونس» او د «انبیاء» په سورتونو کښی په تفصیل سره تیره شوی ده هلته دی د هغی تحقیق ولوست شی. د ده الزام هم دغومره وو چی د اجتهادی خطاء په اقتضاء بی له دی نه چی د الله تعالیٰ حکم ته ئی انتظار کولی له هغه کلی څخه ووت او د الله تعالیٰ د عذاب د نزول ورځ ئی تعیینه فرمایلی وه.

فَلَوْلَآ اَنَّهٗ كَانَ مِنَ الْمُسَبِّحِيْنَ ﴿١٤٣﴾ لَلَبِثَ فِىْ بَطْنِهٖٓ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴿١٤٤﴾

پس که نه وی دغه خبره بیشکه چی دغه (یونس) وو له تسبیح کوونکیو څخه. نو خامخا پاتی به وو په نس د دی مهی کښی تر هغی ورځی پوری چی بیا ژوندی راپاځولی شی (خلق).

**تفسیر:** یعنی کله چی د مهی (کب) په ګیډه کښی او پخوا له هغه څخه به یونس علیه السلام د الله تعالیٰ په ذکر او یاد کښی ډیر مشغول وو نو ځکه مونږ هغه ته ډیر ژر نجات ورکړ که نه تر قیامته به دی د همغه مهی په ګیډه کښی پاتی وو او د باندی وتل به ئی په برخه نه کیده او د همغه مهی غذا او خوراک به کیده.

**تنبیه:** ﴿ لَلَبِثَ فِىْ بَطْنِهٖٓ ﴾ الآية ـ د دی خبری کنایه ده چی دی به له سره له هغه ځایه نه ووت. دغه واقعه د فرات په سیند کښی واقع شوی ده علامه محمود الالوسی البغدادی لیکی چی «ما په خپله په دغه سیند کښی ډیر لوی لوی کبان لیدلی دی ښائی دغه خبره د تعجب مورد ونه ګرځی» پخوا تیر شو چی د کب په ګیډه کښی د یونس علیه السلام تسبیح دغه وه ﴿ لَّآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ اِنِّىْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴾

فَنَبَذْنٰهُ بِالْعَرَآءِ وَهُوَ سَقِيْمٌ ﴿١٤٥﴾ وَاَنْۢبَتْنَا عَلَيْهِ

## شَجَرَةً مِّن يَّقْطِيْنٍ ﴿١٤٦﴾

پس وموغورځوه دغه (یونس) په ډاګ میدان کښې حال دا چې دی رنځور وو. او زرغونه کړه مونږ پرې یوه ونه له جلغوالاوو (کدو) نه.

**تفسیر:** پر مهی حکم وشو چې دی حضرت یونس علیه السلام له خپلې ګېډې څخه قی کړی ـ او په یوه خلاص میدان کښې ئې وغورځوی غالباً یونس علیه السلام به د کافي غذا او هواء او نور ضروریاتو د نه رسیدلو له سببه رنځی او نحیف شوی وو. وائي چې د ده ضعف او نحیفي دی اندازې ته رسیدلې وه چې لمر پلوشې او د مچ او نورو شیانو کښیناستل هم د ده پر بدن بد لګیده، الله تعالیٰ پخپل قدرت د ده په څنګ کښې د کدو یو بوټی سم د لاسه زرغون او لوی کړ چې د هغه د جلغ د پانو سیوری د ده پر جسم لویده ـ او هم دغسې به پاک الله د ده د غذا او نورو ضروریاتو وسائل او وسائط هم پخپل قدرت وربرابر کړی وی.

## وَاَرْسَلْنٰهُ اِلٰى مِائَةِ اَلْفٍ اَوْ يَزِيْدُوْنَ ﴿١٤٧﴾

او بیا مونږ ولیږه دغه (یونس) سلو زرو (خلقو) ته یا زیات له دی نه.

**تفسیر:** یعنی یواځې که د دوی عاقلان او بالغان شمیرل کیدی نو د هغوی شمیر یو لک ته وو او که ټول واړه او لوی سره وشمیرل شي نو د هغوی شمیر زیات وو. یا داسې ووایئ چې له یو لک تنو څخه زیات وو ـ او دوو لکو ته نه رسیدل. د زرو کسور ورسره مه لګوی نو یو لک ئې ووایئ. او که کسر ورسره لګوئ نو د یوه لک څخه به څو زره د پاسه وی. والله اعلم.

## فَاٰمَنُوْا فَمَتَّعْنٰهُمْ اِلٰى حِيْنٍ ﴿١٤٨﴾

پس ایمان راوړ (هغوی پرې) پس نفع مو ورکړه دوی ته تر یوی نیتی پورې.

**تفسیر:** یعنی د ایمان او یقین په برکت ئې د الله تعالیٰ له عذابه نجات وموند. او په خپل مقدر عمر پورې له دنیوی لذائذو او ژوندون څخه متمتع او مستفید شول. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «هغه قوم پر یونس علیه السلام ایمان راوړ چې یونس علیه السلام له هغوی څخنی تښتیدلی وو. دوی پرله پسې په ده پسې ګرځیدل او لټوه ئې څو ورته ورسیدل او د یونس علیه السلام له موندلو څخه ډیر زیات خوښ او خوشال شول» دغه قصه پخوا له دی نه د «یونس» او د «انبیاء» په سورتونو کښې هم لیکلې شوی ده هلته دې ولوستله شي.

فَاسْتَفْتِهِمْ أَلِرَبِّكَ الْبَنَاتُ وَلَهُمُ الْبَنُونَ ﴿١٤٩﴾ أَمْ خَلَقْنَا الْمَلٰٓئِكَةَ
إِنَاثًا وَّهُمْ شٰهِدُونَ ﴿١٥٠﴾ أَلَآ إِنَّهُمْ مِّنْ إِفْكِهِمْ لَيَقُولُونَ ﴿١٥١﴾
وَلَدَ اللّٰهُ وَإِنَّهُمْ لَكٰذِبُونَ ﴿١٥٢﴾

پس وپوښته ته (ای محمده) دغه (کفار) آیا رب ستا لره لونی دی ؟ او دوی لره ځامن دی ؟. او که مو پیدا کړی دی پرښتی ښځی (لونی د الله) حال دا چی دوی حاضر وو (په وخت د پیدا کولو د پرښتو کښی) خبردار! یوه شه! چی بیشکه دوی له دروغو خپلو خامخا وائی (داسی) چی ولد راوړی دی الله حال دا چی بیشکه دوی خامخا دروغجنان دی (په دی ویلو خپلو).

**تفسیر:** یعنی د انبیاوو حال خو مو واورید چی د حضرت نوح، ابراهیم، اسمٰعیل، موسیٰ، هارون، الیاس، لوط او یونس علیهم السلام د گردو (تولو) مشکلات د الله تعالیٰ په امداد او اعانت سره حل شول. خورا ډیر لوی مقرب انسانان هم د الله تعالیٰ له امداد او معاونت څخه مستغنی او بی پروا کیدی نشی. اوس وروسته لږ څه د پرښتو او د پیریانو حال واورئ. چی کفارو د دوی په نسبت څرنگه چتی (بیکاره) او واهی عقائد له خپل ځانه ترلی او جوړ کړی دی لکه چی د عربو ځینو قبائلو به ویل چی پرښتی د الله تعالیٰ لونی دی. کله چی له دوی نه پوښتنه کیده چی ښه نو د دوی میندی څوک دی ؟. نو د لویو لویو پیریانو لونه به ئی ورښوولی په دی شانی چه (العیاذ بالله) د الله تعالیٰ تعلقات به ئی له پیریانو سره ترل. وروسته له دغو دواړو احوال ذکر کیږی. مگر پخوا له هغه د توطیه او تمهید په ډول (طریقه) د عربو د کفارو د دغی چتی (بیکاره) او مردودی عقیدی تردید شوی دی لکه چی د سورت په ابتداء کښی د عظمت او وحدانیت د دلائلو او قصصو په ضمن کښی د خپل قاهره قدرت د آثارو د بیان او تذکار څخه وروسته فرمائی چی اوس لږ شانی له دغو حمقاوو او جهلاوو څخه پوښتنه وکړئ چی آیا داسی لوی عظمت او قدرت والا الله تعالیٰ (معاذ الله) د خپل ځان دپاره که د اولاد تجویز هم کوی نو آیا د خپل ځان دپاره لونی غوره کوی ؟ او تاسی ته هلکان درکوی ؟ یوه خو دغه بی ادبی او گستاخی شوه چی تاسی الله تعالیٰ ته د اولاد نسبت کوئ او بیا په اولاد کښی هم ورته کمزوری او ښکته او ضعیفه اولاد او پر هغه مستزاد چی پرښتو ته هم د اناثو (ښځو) نسبت کوئ آیا کوم وخت چی مونږ پرښتی پیدا کولی دوی زمونږ په څنگ کښی ولاړ وو ؟ او دوی د هغوی د انثیت دغه اطلاع او اخبار له خپلو مشهوداتو او مرئیاتو څخه ورکوی ؟ آیا دوی په واقع سره له دی نه خبر او مطلع دی چه مونږ پرښتی اناثی پیدا کړی دی ؟ **لاحول ولا قوة الا بالله**

**العلی العظیم!** د دغه انتهائی سفاهت او حماقت په نسبت څه ووېلی شی ؟

أَصْطَفَى الْبَنَاتِ عَلَى الْبَنِينَ ﴿١٥٣﴾ مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ﴿١٥٤﴾
أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿١٥٥﴾

آیا غوره کړی دی دغه (الله) لوڼی پر ځامنو څه وشوه پر تاسی (په دغه حکم د دروغو کښی) دغه شرنګه حکم کوئ تاسی آیا پس پند نه اخلئ تاسی (چی الله پاک دی له ټولو عیوبو).

**تفسیر:** یعنی لږ ذره خو غور او دقت وکړئ د عیب ترلو دپاره هم لیاقت او علمیت پکار دی که مو داسی یوه غلطه عقیده له خپله ځانه جوړوله نو ښائی چی دغسی بی اساسه او بی منطقه مو نه جوړوله. دغه کوم عدل او انصاف دی چی د خپل ځان دپاره هلکان غوره او پسند کړئ ؟ او پاک الله ته د لوڼو نسبت وکړئ ؟.

أَمْ لَكُمْ سُلْطَانٌ مُبِينٌ ﴿١٥٦﴾ فَأْتُوا بِكِتَابِكُمْ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿١٥٧﴾

آیا شته تاسی ته کوم برهان سند ښکاره (چی الله اولاد لری). پس راوړئ تاسی هغه کتاب خپل که چیری یئ تاسی صادقین رښتینی (په خپل قول کښی).

**تفسیر:** یعنی بالاخر دغسی مهمله او بی اساسه خبره مو له کوم ځای څخه رااېستلی ده ؟ له عقل او فهم او علمی اصول سره خو د دغی خبری هیڅ اړه (تعلق) او ارتباط نشته. نو آیا کوم نقلی سند د دغی عقیدی د اثبات دپاره لرئ ؟ که داسی وی نو بسم الله! راوړاندی ئی کړئ!.

وَجَعَلُوا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجِنَّةِ نَسَبًا وَلَقَدْ عَلِمَتِ الْجِنَّةُ إِنَّهُمْ
لَمُحْضَرُونَ ﴿١٥٨﴾ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٥٩﴾

او ګرځوی دغه مشرکان په منځ د دغه (الله) او په منځ د پیریانو نسب قرابت (نسبت د خپلوی)، او خامخا په تحقیق پوهیږی پیریان چی بیشکه دوی

خامخا حاضر کړی شوی دی (دوزخ ته). پاکی ده الله ته له هغو (خبرو) څخه چی وائی ئی دوی (چی شریک او ولد ورته نیسی).

**تفسیر:** یعنی دغو حمقاوو د پیریانو سره (معاذ الله) د الله تعالیٰ د ځوموالی (دامادئ) تعلقات قائم کړی دی. سبحان الله! دوی څرنګه خبری کوی ؟ که موقع وموږ نو لږ شانی له دغو پیریانو څخه پوښتنه وکړئ چی د هغوی عقیده او افکار د خپلو ځانونو په نسبت څرنګه دی ؟ او خپل ځانونو څه ګڼی؟ دوی ته دغه خبره په ښه شان سره معلومه ده چی دوی هم لکه نورو مجرمینو نیولی کیږی او د الله تعالیٰ په مخ کښی وړاندی کولی شی. آیا له ځوم او داماد سره هم داسی معامله کوله شي ؟ ځینو اسلافو له نسب څخه دغه مراد نیولی دی چه دغو خلقو شیاطین الجن د الله تعالیٰ مقابل حریفان ګڼل لکه چی مجوسیان د «یزدان» او «اهریمن» قائلان دی. یعنی یوه ته د نیکی خدای او بل ته د بدی خدای وائی.

إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴿١٦٠﴾

مګر هغه بندګان د الله چه پاک کړی شوی دی (منزه دی له دغه نسبت او احضار د دوزخ).

**تفسیر:** یعنی له پیریانو یا له انسانانو ځنی د الله تعالیٰ غوره او منتخب بندګان له نیولو او په عذابولو څخه آزاد دی معلوم شو چه هلته د نسبونو او د ارتباطو او د تعلقاتو څه پوښتنه نشته بلکه هلته یواځی د بندګی او اخلاص پوښتنه کیږی.

فَإِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ ﴿١٦١﴾ مَآ أَنتُمْ عَلَيْهِ بِفَـٰتِنِينَ ﴿١٦٢﴾ إِلَّا مَنْ هُوَ صَالِ ٱلْجَحِيمِ ﴿١٦٣﴾

پس بیشکه تاسو چی یئ او هغه چی عبادت ئی کوئ تاسی نه یئ تاسی (ای عابدانو او معبودانو په دغه بت پرستی سره په فتنه اچوونکی (د هیچا) مګر د هغه چا چی ننوتونکی د دوزخ دی (په علم الله کښی).

**تفسیر:** دیر خلق داسی ګڼی چی د پیریانو په لاس کښی د بدی او پرښتو په لاس کښی د نیکی واک او اختیار شته هر چاته چی دوی وغواړی ښیګڼه (فائده) وررسوی او الله تعالیٰ ته ئی مقرب ګرځوی او هر یوه ته چی دوی وغواړی بدی او تکلیف رسوی یا ئی ګمراه کوی. ښائی د دغو

مفروضه وو اختیاراتو په بناء به ئی دوی د الله تعالیٰ اولاد یا خسر گرځولی وی. نو دلته ئی د دغی مسئلی جواب ورکری دی چی نه ستاسی او نه د دوی په لاس کښی څه مستقل اختیار شته. تاسی او هغه شیاطین چی تاسو ئی عبادت کوئ. که گرد (تول) سره یو ځای شئ د دغی خبری قوت او قدرت نه لرئ چی بی د الله تعالیٰ له مشیته یو متنفس هم په جبر او اکراه سره گمراه کری شئ گمراه خو همغه څوک کیږی چی الله تعالیٰ دی د ده د بد استعداد په بناء دوزخی لیکلی وی او د خپلی بدکاری په سبب خپل ځان دوزخ ته ورسوی. (بیا وویل جبریل علیه السلام حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ته).

وَمَا مِنَّآ إِلَّا لَهُۥ مَقَامٌ مَّعۡلُومٌ ﴿١٦٤﴾

او نشته له مونږ ځنی هیڅوک مگر چی مقرر دی ورته یو مقام ځای معلوم.

**تفسیر:** الله تعالیٰ دغه کلام د پرښتو له ژبی او د دوی له جانبه فرمایلی دی لکه چی په دیرو ځایونو کښی د انسانانو له جانبه دعاوی فرمائی. یعنی د هری لوئی پرښتی دپاره یو حد مقرر دی چی دا له هغه حده نشی وراندی کیدی، دا ئی ځکه وفرمایل چی کافران وائی چی پرښتی د الله تعالیٰ لونه دی چی د پیریانو له ښځو څخه پیدا شوی دی. حال دا چی پیریانو ته د دوی حال په ښه شان سره معلوم دی. او پرښتی داسی وائی چی مونږ د دغی خبری له سره طاقت او توان نه لرو چی د الله تعالیٰ له احکامو د یوی ذری په اندازه هم تجاوز او تخلف وکری شو.

وَإِنَّا لَنَحۡنُ ٱلصَّآفُّونَ ﴿١٦٥﴾

او بیشکه مونږ خامخا مونږ صف ترونکی یو (په وخت د طاعت کښی).

**تفسیر:** یعنی په خپلو حدودو کښی هر څوک د الله تعالیٰ عبادت او د ده د احکامو د منلو دپاره تیار ولاړ دی. او له سره هیڅ یو د دی خبری طاقت او توان نه لری چی له هغه څخه د یوه ویښته په اندازه هم وراندی وروسته وښوئیږی.

وَإِنَّا لَنَحۡنُ ٱلۡمُسَبِّحُونَ ﴿١٦٦﴾

او بیشکه مونږ خامخا مونږ تسبیح ویونکی یو.

**تفسیر:** یعنی تر دی ځای پوری د پرښتو کلام ختم شو ـ وروسته له دی نه د مکی معظمی د

خلقو حال بیان فرمائی.

وَاِنْ كَانُوْا لَيَقُوْلُوْنَ ﴿١٦٧﴾ لَوْ اَنَّ عِنْدَنَا ذِكْرًا مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ ﴿١٦٨﴾
لَكُنَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿١٦٩﴾ فَكَفَرُوْا بِهٖ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿١٧٠﴾

او بیشکه چی وو (دغه کفار) خامخا ویل به ئی داسی چی که چیری بیشکه وی له مونږ څخه ذکر (کوم کتاب) له پخوانیو (کتابونو) څخه نو خامخا وو به مونږ بندګان د الله مخلصان (بیا چی ورته راغی دغه قرآن) پس کافران شول په دغه (کتاب) پس ژر ده چه پوه به شی دوی (په عاقبت د دی کفر خپل).

**تفسیر:** د عربستان خلقو څه مهال (وخت) چی د انبیاوو نومونه او قصی اوریدلی او د دوی له علم څخه بی خبران وو نو پخپلو منځ کښی به ئی سره داسی ویل «که مونږ ته د دغو پخوانیو علوم حاصل وی یا پر مونږ باندی هم کوم آسمانی کتاب یا د پند او نصیحت خبری نازلیدی نو مونږ به پر هغو په ډیر ښه شان سره عمل کوه او خپل حسن الاعمال به مو نورو ته هم ښوول او په معرفت او عبادت کښی به مو تر دغی اندازی پوری ترقی او پرمخ تګ کوه چی د الله تعالیٰ په مخصوصو او منتخبو بندګانو کښی به شامليدو» اوس چی د دوی په منځ کښی نبی الله صلی الله علیه وسلم مبعوث شوی دی دوی له خپلو هغو خبرو څخه اوښتی دی او هغه خپل قول او اقرار ئی هیر کری دی نو د دغه انحراف او انکار څخه کومه نتیجه او انجام چی دوی ته پیښیدونکی دی دوی به ئی عنقریب وګوری.

وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٧١﴾ اِنَّهُمْ لَهُمُ الْمَنْصُوْرُوْنَ ﴿١٧٢﴾
وَاِنَّ جُنْدَنَا لَهُمُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿١٧٣﴾

او خامخا په تحقیق پخوا لا صادر شوی دی حکم زمونږ دپاره د بندګانو زمونږ مرسلینو. چی بیشکه دوی هم له دوی سره مدد کړی شوی دی. او بیشکه لښکری زمونږ خامخا هم دوی بریالیانی (کامیاب) دی (په کفارو).

**تفسیر:** یعنی دغه خبره د الله تعالیٰ په علم کښی مقرره شوی ده چی د منکرینو په مقابل کښی

پاک الله له خپلو انبیاوو سره مدد او معاونت کوی او بالاخر د الله تعالیٰ لښکر غالب او بریالی (کامیاب) کیږی اګر که ضمناً حالات په هر ډول (طریقه) او هر وضعیت سره واوړی او لوټونه وخوری مګر فتحه ـ بری او کامیابی هرومرو (خامخا) د مخلصو بندګانو دپاره ده او دغه نصرت هم د حجت او برهان په اعتبار او هم د ظاهری تسلط او غلبی په معیار وی مګر په دغه شرط چی دغه «جند» فی الواقع «جند الله» وی.

فَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتّٰى حِيْنٍ ﴿۱۷۴﴾ وَّاَبْصِرْهُمْ فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ ﴿۱۷۵﴾

پس مخ وګرځوه ته (ای محمده!) له دوی نه تر یوه وقته پوری. او ګوره ته دوی ته پس ژر ده چی وبه وینی دوی (عاقبت خپل).

**تفسیر:** یعنی اوس څو ورځی نور هم دوی ته څه مه وائی! او په صبر او استقامت سره د دوی حال ته وګوره دوی به هرومرو (خامخا) خپل انجام وګوری لکه چی وئی هم لید. کله چی وویل منکرانو تمسخراً چی کله به وی نزول د عذاب ؟ نو نازل شو

اَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿۱۷۶﴾ فَاِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمْ فَسَآءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿۱۷۷﴾

آیا پس (په راتلو) د عذاب زمونږ تلوار کوی دوی. پس کله چی نازل شی (عذاب) په میدان (غولی) د دوی پس بد به وی صبا د ویرولیو شویو.

**تفسیر:** شاید ﴿ فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ ﴾ د آوریدلو په اثر به دوی داسی وی چی اوس نو ژر شه زمونږ عاقبت خاتمه او انجام مونږ ته اوښیه! نو د هغه جواب ئی داسی ورکړ چی پر خپل ځان باندی د آفت د ژر غوښتلو دغه شورماشور چی تاسی نښلولی دی کله چی وخت ئی راشی هغه به ډیر بد وخت وی. د الله تعالیٰ عذاب داسی درځی لکه چی کوم دښمن سری ته په پټونی کښی د شپی پټ ناست وی او ګهیځ (سحر) د وقته یو ځلی په میدان کښی ځان ورښکاره کړی او پر خپل غلیم په ډانګپیلی (ښکاره) داړه واچوی. د الله تعالیٰ د عذاب د نزول په وخت کښی به د هغو خلقو حشر هم داسی کیږی چی دوی پخوا له دی نه ویرولی شوی دی او له آخری خاتمی څخه په ښه ډول (طریقه) پوه او مطلع کړی شوی دی لکه چی د مکی معظمی په فتح او په نورو ځایونو کښی هم داسی وشو. اوس بیا الله جل شانه واعظم برهانه لپاره د تسلی د خپل رسول صلی الله علیه وسلم مکرراً مؤکداً داسی امر فرمائی

وَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتّٰى حِيْنٍ ﴿۱۷۸﴾ وَّاَبْصِرْ فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ ﴿۱۷۹﴾

او مخ وګرځوه (ای محمده !) له دوی څخه تر یوی نیتی پوری. او ګوره (دوی ته) پس ژر ده چه وبه وینی دوی (احوال خپل).

**تفسير:** ښائی چی ږومبنی وعده د دنیوی عذاب وه ـ او دغه به د اخروی عذاب وی. یعنی تاسی ورته ګورئ چی وروسته له دی نه دغه کفار به آخرت کښی څه څه عذابونه مومی.

سُبْحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۱۸۰﴾ وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۸۱﴾ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۸۲﴾

پاکی ده رب ستا لره (له هره عیبه او نقصانه) چی رب د عزت (قوت غلبی دی او پاک دی) له هر هغه څیزه چی (مشرکان ورته) نسبت کوی او سلام دی پر (تولو) مرسلینو استاځیو. او توله ثناء صفت خاص الله لره دی چی رب پالونکی د تولو عالمیانو دی.

**تفسير:** د سورت په خاتمه کښی ئی د ګردو (تولو) اصولی مضامینو خلاصه بیان کره ـ یعنی د الله تعالیٰ ذات له تولو عیوبو او نقائصو څخه پاک او منزه دی، په ګردو (تولو) کمالیه وو صفاتو او محاسنو موصوف او ګردی (تولی) ښیګنی (خوبیږ) د ده په پاک ذات کښی مجتمعی دی ـ پر ګردو (تولو) انبیاوو او رسولانو د ده له طرفه سلام راځی چی د دوی د عظمت او عصمت او سالمیت او منصوریت دلیل دی.
**تنبيه:** له احادیثو څخه، وروسته د لمانځه او د مجلس پر ختم کښی د دغو آیاتونو د لوستلو فضیلت ثابت شوی دی نو ځکه مونږ هم د هم دغه سورت د تفاسیرو خاتمه پر هم دغی عقیدی تینګه کره! ښو مو پاک الله پر هم دغه عقیده باندی تینګ ولری!

سُبْحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ

**(تمت سورة الصافات بفضل الله تعالى ومنه)**

(سورة صٓ مكية وهي ثمان وثمانون آية وخمس ركوعات رقمها(۳۸) تسلسلهاحسب النزول ايضا (۳۸))

نزلت بعد سورة القمر

د «صٓ» سورت مکی دی (۸۸) آیته (۵) رکوع لری په تلاوت کښې (۳۸) او په نزول کښې هم (۳۸) سورت دی

وروسته د «القمر» له سورت څخه نازل شوی دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع) کوم، په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

صٓ وَالْقُرْاٰنِ ذِي الذِّكْرِ ﴿۱﴾ بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ عِزَّةٍ وَّشِقَاقٍ ﴿۲﴾

قسم دی په قرآن چی څښتن (خاوند) د پند ذکر بیان، شرف، شهرت، عظمت دی (داسی نه دی چی کفار د معبودانو په نسبت وائی). بلکه هغه کسان چی کافران شوی دی په کبر، سرکشی کښې دی (له قبوله د حق) او په مخالفت کښې دی (له مسلمانی سره).

**تفسیر:** یعنی دغه عظیم الشان، عالی مرتبت قرآن چی په ډیرو عمده وو نصائحو سره ډک او په نهایت مؤثر طرز خلقو ته د هدایت او معرفت خبری ښوونکی او پوهونکی دی په جګ (وچت) غږ سره شهادت ورکوی هغه خلق چی له قرآنی صداقت او د حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم له رسالت څخه منکر دی د هغه سبب داسی نه دی چی د قرآن په تعلیم یا تفهیم کښې څه نقص یا قصور شته یا رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د ده په تبلیغ او تبین کښې معاذ الله مقصر دی بلکه د دغه انکار او انحراف اصل سبب دا دی چه دغه مخلوق دروغ پری تری، چتی (بیکاره) لوئی، تکبر، غرور، نخوت، معاندت، مخالفت، جهالت او حماقت کوی او د شقاق او نفاق د جذباتو په جال کښې نښتی دی که چیری دوی لږ څه له دغه دلدل څخه ووځی نو د حق او صداقت ډیر صاف او پاک سرک د دوی په نظر ورځی.

كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ قَرْنٍ فَنَادَوْا وَّلَاتَ حِيْنَ مَنَاصٍ ﴿۳﴾

(نه ګوری منکران چی) څومره ډیر هلاک کړی دی مونږ پخوا له دی څخه له اهل د زمانی پس ناری به ئی وهلی (عند نزول العذاب) حال دا چی نه به وو

هغه وخت د خلاصیدلو (او د تښتیدلو).

**تفسیر:** یعنی دوی ته دی معلوم وی چی د هم دغه غرور او تکبر په سبب او د انبیاؤ د الله د مقابلی او مجادلی په علت پخوا له دی نه ډیر اقوام او ملل سره تباه او برباد شوی دی، هغه خلق هم تر دیرو مودو پوری د الله تعالیٰ له انبیاو سره جنګیدلی وو، بیا څه وخت چی پر هغوی هغه بد ساعت راغی او د الله تعالیٰ عذاب دوی له څلورو خواوو څخه چار چاپیر ونیول نو سخت وویریدل او شورماشور او غلغله ئی ونښلوله، مګر د هغه وخت د آنی او فوری غلبلی او کریکی څخه هیڅ یوه نتیجه نه مرتبه کیده ځکه چی د خلاصی او نجات موقع تیره شوی وه او وخت او فرصت نه وو پاتی چی د دوی د دغو شور او بکاوو او فریادونو په طرف غوږ کیښودی شوی. ( «لات» د «لیس» په معنی ده چی «ت» تاکیداً پری زائده شوی ده او له «حین» سره مختص دی چی تری اسم یا خبر عموماً محذوفیږی «مناص» د واوی اجوف مصدر دی).

وَعَجِبُوٓا أَن جَآءَهُم مُّنذِرٌ مِّنْهُمْ ۖ وَقَالَ ٱلْكَٰفِرُونَ هَٰذَا سَٰحِرٌ كَذَّابٌ ۝

او تعجب کوی (کفار) له دی نه چی راغلی دی دوی ته (نبی) ویروونکی له دوی نه او وائی دا کافران چی دغه (ویروونکی نبی) ساحر کوډګر دی دروغجن.

**تفسیر:** یعنی که له آسمانه کومه پرښتنه راتلی خو بیا هم یوه خبره وه. زمونږ له منځه یو سړی راپورته شوی او زمونږ په ویرولو او ژړولو ئی شروع کړی ده او داسی وائی چی زه د آسمان والا الله له جانبه راغلی یم. دغه یوه ډیره عجیبه خبره ده اوس ماسواء له دی نه بل څه وویل شی چی یوه کوډګر (ساحر) یوه د دروغو نندارہ جوړه کړی ده، او د کوډو په زور دغه نندارى او کرشمی راښیی او ورته معجزه وائی او څو د افسانی خبری ئی هم راتولی کړی دی او د هغو په نسبت داسی دعوی کوی چی دغه د الله تعالیٰ رالیږلی شوی علوم دی او زه ئی رسول یم.

أَجَعَلَ ٱلْءَالِهَةَ إِلَٰهًا وَٰحِدًا ۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَىْءٌ عُجَابٌ ۝ وَٱنطَلَقَ ٱلْمَلَأُ مِنْهُمْ أَنِ ٱمْشُوا۟ وَٱصْبِرُوا۟ عَلَىٰٓ ءَالِهَتِكُمْ ۖ

آیا ده ګرځولی دی دغه (۳۶۰) معبودان الله یو ؟ بیشکه دغه (ګرځول د ډیرو معبودانو یوه ته چی تاسی نور معبودان پریږدئ او د یو الله عبادت کوئ) خامخا یو شیز ډیر عجیب دی (چی مثل نه لری) او لاړل په تلوار سره مشران

له دوی نه (له مجلسه چی سره ویونکي وو یو بل ته) چی ځئ (پاڅئ له دی ځایه) او صبر وکړئ (او محکم اوسئ) پر (عبادت د) معبودانو خپلو

**تفسیر:** یعنی دغه بل هم درواخلئ! د دومره بیشماره خدایانو دربارونه دی بند وی او یواځی یو الله ئی پریښی دی له دی نه بله لویه د تعجب خبره به څه وی چه د دغومره لوی جهان انتظام یواځی هم دغه یو الله ته وسپارلی شی او د مختلفو شعباتو او اداراتو هغه معبودان چی د هغوی بندگی له ډیرو کلونو راهیسی جریان او ادامه لری له یوی مخی ممنوع ودرولی شی. گواکی زمونږ پلرونه او نیکونه بیخی جاهلان او ناپوهان وو چی دغومره ډیرو بتانو او معبودانو ته ئی عبادت کاوه. په روایاتو کښی راغلی دی چه د ابوطالب په رنځورئ کښی ابوجهل او د قریشو څو نور غتان ابوطالب ته ورغلل او هغه ته ئی د رسول الله مبارک شکایت یوړ چی دغه ستا وراره زمونږ معبودانو ته بدی ردی خبری کوی او مونږ ته په څو څو ډوله (قسمه) احمقان او ناپوهان وائی تاسو ده ته نصیحت وکړئ! کله چه ابوطالب دغه خبری رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وکړی دوی د هغه په جواب کښی وویل «ای زما تره! زه تشه له دوی نه یوه کلمه غواړم چه وروسته له هغه به گرد (تول) عربستان د دوی مطیعان او عجمیان به د دوی خدمت گاران شی او نور ادیان به ورته جزیه ورکوونکی کړی » دوی خوشال شول او ورته ئی وویل «چی هغه څه شی دی ؟ تاسی خو همغه یوه کلمه ووایئ مونږ ستاسی د لسو کلمو منلو دپاره تیار ولاړ یو» رسول الله مبارک وفرمایل چه «نه! هغه خو هم دا یوه د «لا اله الا الله» پاکه کلمه ده!» کله چه هغوی دغه خبره واوریدله ډیر په قهر او غصه شول او تاو کړی له هغه مجلسه پاڅیدل او وی ویل چه مونږ دومره ډیر خدایان پریږدو او فقط ستا په خوله یواځی هم دغه یو الله معبود ومنو! ځئ چه ځو! محمد صلی الله علیه وسلم له خپلو دغو چلونو او فریبونو څخه لاس اخیستونکی نه دی. ده زمونږ د دغو معبودانو په خلاف خپلی پښی لوڅی (بربندی) کړی دی او خامخا د هغوی پر ضد تبلیغات کوی مونږ لره هم ښائی چی د هم ده په شان خپل لستونی پورته او د خپلو معبودانو حمایت او عبادت وکړو نه چی د ده په دغو تبلیغاتو سره د کوم ضعیف الاعتقاد سړی پښه زمونږ د دغی پخوانی آبائی او اجدادی طریقی څخه وښوئیږی او دی پخپل مقصد بریالی (کامیاب) شی د ده د دغی بلیغی سعیی او کوښښ په مقابل کښی مونږ ته هم لازم دی چه ډیر زیات صبر، استقلال او استقامت له خپله ځانه ورښکاره کړو.

إِنَّ هَٰذَا لَشَيْءٌ يُرَادُ ۝٦

بیشکه دغه شی (توحید) خامخا یو شی دی چه اراده ئی کړی شوی ده (له مونږ څخه)

**تفسير:** يعنی محمد صلی الله علیه وسلم چی په داسی زور او شور او عزم او استقلال سره زمونږ د معبودانو په خلاف په جهاد لاس پوری کری دی ضرور په دغه کښی د ده څه غرض شته او هغه دا دی چی دی د یوه الله په نامه اخیستلو سره مونږ ګرد (تول) خپل ځان ته مطیع او محکوم وګرځوی او خپل ځان ته حکومت او ریاست حاصل کړی. نو لازم دی چی مونږ دی پری نږدو چی پخپل دغه مقصد کښی بریالی (کامران) او کامیاب شی. ځینی مفسرین د ﴿إِنَّ هَٰذَا لَشَيْءٌ يُرَادُ﴾ مطلب داسی بیانوی بیشکه دا همغه شی دی چه محمد صلی الله علیه وسلم د هغه تینګه اراده کری ده او په هیڅ صورت له هغه څخه لاس اخیستونکی نه دی. یا دی داسی وویل شی چی هم دغه خبره (معلومیږی) کیدونکی ده الله ته هم دغه منظور دی چه په دنیا کښی انقلاب شی، لهٰذا حتی الامکان په دیر صبر او تحمل سره د خپل قدیمی دین په حفاظت کښی تینګ اوسئ! یا ممکن دی چه د تحقیر له لاری ئی داسی ویلی وی چه بیشکه د محمد صلی الله علیه وسلم په اراداتو کښی خو دیر شیان دی لیکن دغه خو کومه ضروری خبره نه ده چی دی پخپلو هغو ګردو (تولو) هیلو، امیدونو او اراداتو ورسیږی چی آرزو، تمنا او اراده کوی. مونږ لره ښائی چی د ده په مقابله کښی تینګ ودریږو او یو پل هم د ده په مقابل کښی بیرته کښینږدو.

---

مَا سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِي الْمِلَّةِ الْآخِرَةِ إِنْ هَٰذَا إِلَّا اخْتِلَاقٌ ۝

---

نه دی اوریدلی مونږ دغه (توحید، وحدانیت) په دین وروستنی (عیسوی) کښی نه دی دغه (توحید) مګر له خپله ځانه جوړ کړی شوی دروغ دی.

---

**تفسير:** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «چی خپل د پلرونو او نیکونو دین ته ئی پخوانی دین وایه. یعنی پخوا مو داسی آوریده چی پخوانیو خلقو به هم داسی خبری کولی مګر زمونږ پلرونو خو داسی نه دی کړی او نه ئی دی ویلی» او ممکن دی چه له پخوانی دین څخه عیسائی دین مراد وی لکه چی د اکثرو اسلافو قول دی. یعنی نصرانیان چی له اهل الکتاب څخه دی د هغوی په نسبت هم مونږ داسی نه دی اوریدلی چی ګرد (تول) نور خدایان له منځه لری کړی او تش یو الله ئی پری ایښی وی آخر دوی خو هم دری خدایان منی او دوی هم دغه رسول، د رسول په حیثیت نه منی او وائی که د ده د دغو ویناوو کوم اصل په نورو کتابونو کښی وی مونږ به هم هغه ضرور منلی وی معلومیږی چی دغه خبری ګردی (تولی) له خپل ځان څخه جوړی کری شوی دی (العیاذ بالله)

---

ءَأُنْزِلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ مِنْ بَيْنِنَا

---

آیا نازل شوی دی پر دغه (محمد) دغه ذکر قرآن له منځ زمونږ (غتانو)،

**تفسیر:** یعنی بالفرض دغه قرآن هم مونږ په نامنلی زړه د الله تعالیٰ کلام منو، او د دغی موضوع په نسبت زیاتی خبری نه کوو چی ولی له آسمانه کومه پرښته د نبی په حیثیت را ونه لیږله شوه ؟ مګر دغه ډیر د تردد او انکار ځای دی چه زمونږ د تولو له منځه څرنګه محمد صلی الله علیه وسلم په نبوت سره منتخب شو ؟ آیا په توله دنیا کښی پرته (علاوه) له محمد صلی الله علیه وسلم بل د دی کار دپاره وړ (قابل) او لایق نه وو ؟ او هم دغه لوی کار فقط هم دغه ته پاتی وو؟ او بل کوم مشر، غټ، ستر، مالداره جایداد لرونکی او بااعتبار سړی په دنیا کښی نه مونده کیده چی خپل دغه کلام او د نبوت مهام ئی د ده په لاس کښی ورکړی وی ؟.

بَلْ هُمْ فِیْ شَكٍّ مِّنْ ذِكْرِیْ ۚ بَلْ لَّمَّا یَذُوْقُوْا عَذَابِ ۝۸

بلکه دوی په شک کښی دی له ذکره قرآنه پنده زما (بل څه منشأ نه لری)، بلکه نه دی څکلی دوی عذاب زما (که نه شک به ئی ورک شوی وی).

**تفسیر:** دغه د الله تعالیٰ له طرفه د دوی د دغی چتی (بیکاره) وینا او نامعقولی خبری جواب شو، یعنی د دوی دغه خرافات او واهیات هیڅ اصل او حقیقت نه لری خبره فقط هم دغومره ده چی اوس دوی ته زمونږ د خبرو په نسبت څه شک او اندیښنه ورپیدا شوی ده او دوی پر دغه خبره یقین او باور نه لری چی هغه خوفناک مستقبل چی دوی ته ئی خبر او اطلاع ورکوله کیږی هرومرو (خامخا) واقع کیدونکی هم دی ځکه چی دوی تر اوسه پوری د الله تعالیٰ د ویشتلو خوند نه دی څکلی، څه مهال (وخت) چی دوی د الله تعالیٰ د ویشتلو خوند او مزه وڅکی نو دغه ګرد (تول) شکوک او شبهات به ئی لری کیږی.

اَمْ عِنْدَهُمْ خَزَآىِٕنُ رَحْمَةِ رَبِّكَ الْعَزِیْزِ الْوَهَّابِ ۝۹ اَمْ لَهُمْ مُّلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَیْنَهُمَا ۫ فَلْیَرْتَقُوْا فِی الْاَسْبَابِ ۝۱۰

آیا په نزد د دوی دی خزانی د رحمت د رب ستا چی ډیر غالب قوی ښه ښښونکی دی ؟. آیا دوی لره دی سلطنت د آسمانونو او ځمکی او د هغو ګردو (تولو) شیانو چی په منځ د دغو کښی دی ؟ پس ودی خیژی (دوی آسمان ته) په اسبابو (رسوونکیو) سره.

**تفسیر:** یعنی د رحمت خزائن او د آسمانونو او د ځمکی حکومت ګرد (تول) د الله تعالیٰ د

قدرت په لاس کښې دی الله ډير زبردست او لوی بخښش والا دی پر هر چا چې د هر انعام اراده وکړی هيڅوک د هغه مانع نشی ګرځيدی او نه پری څه تنقيد او اعتراض کولی شی. که الله تعالیٰ پخپل حکمت او علم سره کوم بشر ته د نبوت او رسالت په منصب سره افتخار وبښی نو تاسی د هغه په نسبت څه مداخله کولی شئ ؟ چې پر دغه دی ولی داسی مهربانی فرمايلی ده ؟ او پر مونږ دی ولی نه ده فرمايلی ؟ آيا د رحمت د خزائنو او د آسمانونو او د ځمکی د سلطنت اختيار داره او واکداره هم دا تاسی يئ ؟ چې داسی چټی (بيکاره) او لغو اعتراضات کوئ ؟ که يئ نو خپل ګرد (تول) وسائل، اسباب مو په کار واچوئ او په آسمان پوری خپلی رسی وتړی، او پر علوياتو هم قبضه وکړئ! او سم له خپلی مرضی او منشأ سره د آسمانونو او ځمکو په تدبير او انتظام کښې که مو له لاسه پوره وی ګوتی ووهئ! او که دغه مو له واکه نه وی پوره نو د آسمانونو او د ځمکی د حکومت او د رحمت د خزائنو د مالکيت دعوی بيخی چټی (بيکاره) او غلطه ده او په سر د هغه د الوهيت په کارونو او انتظاماتو کښې مداخله پرته (علاوه) له بيحيائی او جنون به بل څه شی وی ؟.

جُندٌ مَّا هُنَالِكَ مَهْزُومٌ مِّنَ الْأَحْزَابِ ﴿١١﴾

دوی خو يو لښکر ګوتی دی په دغه ځای کښې چې ماتی ورکړی شوی له هغو ډيرو لښکرو څخه دی.

**تفسير:** يعنی هيڅ نشته! د آسمانونو او د ځمکی له حکومت او د رحمت د خزائنو له مالکيت سره دغه خواران څه اړه او تعلق لری ؟ دوی خو د څو ماتو او هزيمت خوړليو انسانانو يوه ډله او جمعيت دی چې د پخوانيو سپيرو او تباه شويو اقوامو په شان لا له اوسه تباه او برباد په نظر راځی. لکه چې دغه منظره د خلقو له نظره د «بدر» له غزوی څخه د مکی معظمی تر فتحی پوری تيره شوه. حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليکی «يعنی پخوانی اقوام تباه شول که دوی هم پر خپل طغيان او عصيان کښې هم داسی مداومت وکړی نو هغوی په شان دوی هم تباه او فناه کيږی» ګواکی د دغه آيت ربط ئی له پخوانی آيت سره وښود والله اعلم.

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَعَادٌ وَفِرْعَوْنُ ذُو الْأَوْتَادِ ﴿١٢﴾

تکذيب کړی وو پخوا له دوی نه قوم د نوح او (قوم د) عاد او (قوم د) فرعون چې خاوند د ميخونو وو.

**تفسير:** يعنی زور او قوت او لاؤ لښکر والا چې په دنيا کښې ئی د خپل سلطنت ميخونه په

ځمکه کښې تک وهلې ؤ. او ځینې وائې هغه څوک چې سرې به ئې په میخونو سره واږه نو د دغه لامله (له وجې) د هغه نوم هم داسې ﴿ ذُو الْأَوْتَادِ ﴾ میخ والا مشتهر شو. والله اعلم.

وَثَمُودُ وَقَوْمُ لُوطٍ وَأَصْحَابُ لْئَيْكَةِ ۚ أُولَٰئِكَ الْأَحْزَابُ ﴿١٣﴾ إِنْ كُلٌّ إِلَّا كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ عِقَابِ ﴿١٤﴾

او (قوم د) ثمود او قوم د لوط او اهل د ځنګله (چې شعیب ورمبعوث شوی وو)، دغه کسان (همغه) لوئې لوئې ډلې (او لښکرې) وې. نه ده (هر یوه د دغو ډلو) مګر نسبت د دروغو ئې کړی ؤ رسولانو د (الله) ته پس ثابت شو عذاب زما (دوی ته).

**تفسیر:** یعنې دغو ټولو لویو زورورو او طاقتورو افواجو هم څه وخت چې د الله تعالیٰ رسولان دروغجن وشمیرل د الله تعالیٰ له سزا او عذاب څخه ئې نجات ونه موند نو ستاسو حقیقت څه دی ؟.

وَمَا يَنْظُرُ هَٰؤُلَاءِ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً مَا لَهَا مِنْ فَوَاقٍ ﴿١٥﴾

او نه کوی انتظار دغه کسان (کفار د مکې) مګر چغې یوې ته (د اسرافیل چې نشته هغې ته هیڅ ډیل بیرته ګرځیدل.

**تفسیر:** یعنې د صور (شپیلۍ) د غږ منتظر دی چه پوره سزا خو دوی ته په هغه وخت کښې ورکوله کیږی او ممکن دی چې له «صیحه» څخه دلته فقط یوه چغه او انضجار مراد وی.

وَقَالُوا رَبَّنَا عَجِّلْ لَنَا قِطَّنَا قَبْلَ يَوْمِ الْحِسَابِ ﴿١٦﴾

او وائې (کفار تمسخراً) ای ربه زمونږ زر راکړه مونږ ته برخه عملنامه زمونږ پخوا له ورځې د حساب.

**تفسیر:** یعنې هر کله چې دوی د قیامت خبرې اورې نو په ټوکو او مسخرو سره وائې چې زمونږ د هغه وخت برخه اوس راکړه! تر څو مونږ هم دا اوس خپله اعمالنامه وګورو او لاس په لاس له

خپلی سزا څخه فراغت ومومو.

إِصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَاذْكُرْ عَبْدَنَا دَاوُدَ ذَا الْأَيْدِ ۖ إِنَّهُ أَوَّابٌ ﴿١٧﴾

(فرمائی الله) صبر تحمل کوه (ای محمده!) پر هغی خبری چی وائی دوی (تاته) او یاد کړه (قصه) د بنده زموږ داؤد خاوند د قوت (په عبادت کښی) چی بیشکه دی ډیر رجوع کوونکی ؤ (عبادت د الله ته).

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب فرمائی «په دغه ځای کښی ده ته د داؤد علیه السلام قصه ور په یادوی چی ده هم د «طالوت» د حکومت په عهد کښی ډیر صبر کړی ؤ څو بالاخر حکومت ده ته ورسید او «جالوت او نور» مخالفین ګرد (تول) سره په جهاد کښی پره او مغلوب شول چی هم دغه وضعیت او نقشه زموږ رسول صلی الله علیه وسلم ته هم ورپیښه شوه.

**تنبیه:** د «ذاالاید» ترجمه حضرت شاه صاحب په «د لاس زور والا» سره کړی ده یعنی د سلطنت قوت یا به ئی دغه لوری ته اشاره وی چه د ده په لاس کښی اوسپنه نرمه کیده. یا به د «لاس قوت» څخه دغه مطلب وی چه ده به د سلطنت مال نه خوړ بلکه د خپل لاس له ګټی څخه ئی دودی خوړه او «اواب» یعنی په هره معامله کښی به ده د الله تعالیٰ په طرف توجه او رجوع کوله.

إِنَّا سَخَّرْنَا الْجِبَالَ مَعَهُ يُسَبِّحْنَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِشْرَاقِ ﴿١٨﴾

بیشکه چی موږ تابع مسخر کړی مو وو غرونه له دغه (داؤد) سره چی تسبیح به ئی ورسره ویلی په آخره او په اوله برخه د ورځی کښی.

**تفسیر:** یعنی صبا او بیګا کله چی حضرت داؤد علیه السلام په تسبیح کښی مشغولیده نو غرونو به هم له ده سره تسبیح ویل. د ده په متعلق څه مضمون د «سبأ» په سورت کښی تیر شوی دی هلته دی ولوست شی.

وَالطَّيْرَ مَحْشُورَةً ۖ كُلٌّ لَّهُ أَوَّابٌ ﴿١٩﴾

او (بل تابع او مسخر کړی ؤ موږ) مرغان حال دا چی تول کړی شوی به ؤ (صفونه صفونه) هر یو (له دوی) به ده ته رجوع کوونکی ؤ (په طاعت سره).

**تفسیر:** یا به گرد (تول) له ده سره یو ځای کیدل او د الله تعالیٰ په طرف به ئی رجوع کوله کما قال بعض المفسرین.

وَشَدَدْنَا مُلْكَهٗ

او قوی محکم کړی ؤ مونږ ملک سلطنت د دغه (داؤد).

**تفسیر:** یعنی پر دنیا باندی د ده د سلطنت رعب او دأب مو کینولی وو او پخپل نصرت او اعانت سره مو ورته د مختلفو اقسامو کثیر التعداد افواج ورکړی ؤ، او د ده قدرت او اقتدار مو په ښه شان سره تینګ کړی ؤ.

وَاٰتَيْنٰهُ الْحِكْمَةَ وَفَصْلَ الْخِطَابِ ﴿۲۰﴾

او ور مو کړ ده ته حکمت (نبوت تدبیر د تولو امورو) او فصل الخطاب (د حق او باطل بیان شافی په هر مقصد کښی).

**تفسیر:** یعنی لوی مدبر او پوه ؤ د هری خبری فیصله به ئی په ډیر ښه صورت سره کوله د وینا په وخت کښی به ئی ډیر فیصله کوونکی تقریر او وینا کوله، په هر حال الله تعالیٰ ده ته نبوت، ښه تدبیر، د فیصلی قوت، او راز راز (قسم قسم) علمی او عملی کمالات ورعطاء فرمائلی ؤ لیکن د ابتلاء او امتحان څخه ده هم نجات ونه موند، چی د هغه قصه اوس بیان فرمائی

وَهَلْ اَتٰىكَ نَبَؤُا الْخَصْمِ اِذْ تَسَوَّرُوا الْمِحْرَابَ ﴿۲۱﴾ اِذْ دَخَلُوْا عَلٰى دَاوٗدَ فَفَزِعَ مِنْهُمْ

او آیا راغلی دی تاته (ای محمده!) خبر د جګړه کوونکیو کله چی راوختل (پس له دیواله د) عبادتخانی. کله چی ننوتل (تول) پر داؤد باندی (او ده ولیدل) پس وویرید (داؤد) له دوی نه (چی دوی ولی راوختل له دیواله ؟ او ولی راننوتل بی له اجازی نه ؟).

**تفسیر:** یعنی حضرت داؤد علیه السلام دری ورځی ئی سره داسی تقسیم فرمایلی وی چی یوه ورځ د عمومی دربار او فصل الخصوماتو دپاره وه، یوه ورځ له خپل اهل او عیال سره اوسیدل، یوه ورځ به خالص د الله تعالیٰ د عبادت دپاره وه چی په دغه ورځ کښی بیخی په خلوت کښی کیناستل او پیره دارانو ته به ئی امر ور کاوه چی هیڅوا ته اجازه مه ورکوئ چی ماته راشی.

یوه ورځې چې داؤد علیه السلام په عبادت کښې مشغول ؤ یو ناڅاپه څو سړی له دیواله راختلی ده ته مخامخ ودریدل، داؤد علیه السلام سره له خپله هغه فوق العاده قوت او شوکت د دغه خلاف التوقع حرکت څخه وویرید او متحیر شو چې دغه انسانان دی که پیریان یا د الله تعالیٰ بل کوم مخلوق ؟ که انسانان دی نو ولی بې وخته راغلی دی ؟ او څرنګه له پیره دارانو څخه تیر شوی دی ؟ او ولی د دروازې له لارې څخه نه دی راغلی ؟ او له دومره جګ (وچت) دیوال څخه به دوی څرنګه راختلی وی ؟ خدای خبر دی چې دوی په دغه غیر معمولی طریقې سره څنګه دلته راغلی دی ؟ او څه نیت او قصد لری ؟ الغرض یو ناڅاپه ئې د دغې عجیبې او مهیبې واقعې له لیدلو څخه ئې افکار او خیالات مشوش او متفرق شول، او په خپل عبادت کښې په همغه خشوع او خضوع چې پخوا مشغول وو نشو مشغو لیدی.

---

قَالُوا لَا تَخَفْ ۚ خَصْمَانِ بَغَىٰ بَعْضُنَا عَلَىٰ بَعْضٍ فَاحْكُم بَيْنَنَا بِالْحَقِّ وَلَا تُشْطِطْ وَاهْدِنَا إِلَىٰ سَوَاءِ الصِّرَاطِ ﴿۲۲﴾

---

وویل دوی مه ویریږه (مونږ دوه ډلې) جګړه کوونکی یو چې ظلم کړی دی ځینو زمونږ پر ځینو نورو پس حکم وکړه په منځ زمونږ کښې په حق سره او لرې مه غورځوه (ظلم مه کوه پر مونږ باندې) او برابر کړه مونږ سمې لارې (د انصاف ته).

---

**تفسیر:** دغو راتلونکیو ورته وویل چې تاسې مه ویریږئ! او له مونږ څخنې پخپل زړه کښې څه فکر او اندیښنې ته لارې مه ورکوئ! مونږ دواړه ډلې د خپلې یوې جګړې د فیصله کولو دپاره ستاسې په خدمت کښې درحاضر شوی یو او غواړو چې تاسې د هغې په نسبت یوه منصفانه فیصله وفرمایئ! کومه بې لارې یا د تال ورکولو خبره دې ښائې په کښې نه وی څکه چې مونږ د عدل او د انصاف د سمې لارې د معلوملو دپاره راغلی یو ښائې د دوی د دغې خبرې له عنوانه حضرت داؤد علیه السلام به لا مبهوت او متعجب شوی وی.

---

إِنَّ هَٰذَا أَخِي لَهُ تِسْعٌ وَتِسْعُونَ نَعْجَةً وَلِيَ نَعْجَةٌ وَاحِدَةٌ فَقَالَ أَكْفِلْنِيهَا وَعَزَّنِي فِي الْخِطَابِ ﴿۲۳﴾

---

بیشکه چې دا (سړی) ورور زما دی ده لره نهه نوی میږی (ګډې) دی او ما

لره یوه میږه (ګډه) ده پس وائی دی ماته کفیل وګرځوه ما د دی (یوی میږی (ګډی) او ماته ئی راکړه) او غلبه ئی کړی ده پر ما په خطاب خبرو کښې هم.

**تفسیر:** یعنی زمونږ جګړه دغه ده چی زما د دغه ورور سره نهه نوی (۹۹) میږی (ګډی) دی او له ما سره یواځی یوه میږه (ګډه) ده، خو دی غواړی چی همغه یوه میږه (ګډه) هم له ما څخنی په هر دول (طریقه) سره چی وشی واخلی او خپل سل میږی (ګډی) پری پوره کړی، او بل مشکل دغه دی چی دغه ورور می همغسی چی په مال او دولت کښې له مانه مور او لوړ (اوچت) دی په ژبه او خبرو کښې هم له ما څخه لوړ (اوچت) او غوړ دی هر کله چی دی خبری کوی ما مغلوب او پر کوی، او ګرد (تول) اوریدونکی د ده په لوری ګرځی او خبری کوی. لنده ئی دا چی زما د حق د اخیستلو دپاره په جبر او تیری سره خبری کوی.

قَالَ لَقَدْ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعْجَتِكَ إِلَىٰ نِعَاجِهِ ۖ

ووبیل (داؤد) خامخا په تحقیق چی ظلم کړی دی ده پر تا په غوښتلو د میږی (ګډی) ستا (چی یو ځای ئی کړی) له میږو (ګډو) خپلو سره.

**تفسیر:** حضرت داؤد علیه السلام به د شریعت په قاعده ثبوت او نور شیان طلب کړی وی او په آخر کښې ئی داسی وفرمایل چی «بیشکه که ستا دغه ورور هم داسی کوی خو دغه د ده تیری او ناانصافی ده، او غواړی چی په دغی وسیلی د خپل غریب او خوار ورور مال وخوری» مطلب دا چی مونږ ئی نه پریږدو چی داسی وکړی.

وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ الْخُلَطَاءِ لَيَبْغِي بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَقَلِيلٌ مَّا هُمْ ۗ

او بیشکه چی ډیر له خلطاؤ شریکانو خامخا ظلم (تیری) کوی ځینی د دوی پر ځینو نورو مګر (تیری) نه کوی هغه کسان چی ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه) او ډیر زیات لږ دی (داسی کسان په منځ) د دغو شرکاؤ کښې.

**تفسیر:** یعنی دغه د شریکانو عادت دی چی یو پر بل باندی ظلم او تیری کوی قوی حصه دار

غواړي چي ضعيف وخوري او له منځه ئې لرې كړي. يوائحي د الله تعالىٰ ايمانداره او نيک بندگان له دې نه مستثنىٰ دي چي د هغوی شمير په دنيا کښې ډير لږ دی.

وَظَنَّ دَاوُدُ اَنَّمَا فَتَنّٰهُ فَاسْتَغْفَرَ رَبَّهٗ وَخَرَّ رَاكِعًا وَّاَنَابَ ۩ فَغَفَرْنَا لَهٗ ذٰلِكَ

او متيقن پوه شو داؤد په دې چي بيشکه هم دا خبره ده چي وازمويه مونږ دی نو ښښنه ئې وغوښته له رب خپل او پرمخې پريوت په دغه حال کښې چي رکوع سجده كوونكى ؤ (الله ته) او بيرته راجع شو (الله ته په توبه سره) پس ومو ښښله مونږ ده ته هغه (خطاء د ده)

**تفسير:** د دغې قصې په اثر داؤد عليه السلام متنبه شو چي دغه زما په حق کښې يوه فتنه او امتحان ؤ په مجرد د دی چه دغه خيال ور پيدا شو له خپلې دغې خطاء څخه ئې معافي وغوښتله او په ډير عجز او نياز ئې سر په سجده کيښود، آخر الله تعالىٰ د هغه خطاء ورمعافه كړه، د داؤد عليه السلام هغه خطاء كومه وه ؟ چي د هغې په نسبت په دغو آيتونو کښې اشاره ده د هغه په نسبت مفسرينو ډيرې اوږدې قصې ليکلې دي، مگر حافظ عماد الدين بن كثير رحمة الله عليه د هغوی په نسبت ليکي «**وقد ذكر المفسرون هٰهنا قصة اكثرها ماخوذ من الاسرائيليات ولم يثبت فيها عن المعصوم حديث يجب اتباعه**» او حافظ ابوحيان رحمة الله عليه او نورو له دغو قصو څخه خپل ځان بيل ساتلى دی، او د دغو آيتونو كوم مجمل چي بيان كړی دی هغه هم له تكلفه څخه نه دی خالی. زمونږ په نزد اصلي خبره خو همغه ده چي د ابن عباس رضی الله تعالىٰ عنهما څخه منقوله ده يعني داؤد عليه السلام ته دغه ابتلاء د يوه شان اعجاب په بناء ور دمخه شوه او صورت ئې داسې ؤ چي داؤد عليه السلام د الله تعالىٰ په دربار کښې عرض وكړ چي ای رب العالمينه! په شپه او ورځ کښې هيڅ يوه گړی داسې نه ده چي په هغه کښې د داؤد عليه السلام د خيلخانې كوم يو تن ستا په عبادت يعنې په لمانځه، تسبيح، تهليل او تكبير کښې مشغول نه وی دا ئې ځكه وويل چي ده د شپې او د ورځې څليرويشت ساعتونه د خپلې كورنې پر گردو (تولو) افرادو تقسيم كړی ؤ څو دوی وار په وار د الله تعالىٰ په عبادت کښې مشغول اوسي او هيڅ وخت د ده عبادتخانه د عابدينو څخه تشه نه وی. او ممكن دی چي نور داسې قسم شيان به ئې هم عرض كړی وی او ښائي خپل د ښه انتظام او نورو اعمالو په نسبت ئې هم څه ويلي وی د الله تعالىٰ په دربار کښې د ده دغه وينا ناپسنده واقع شوه او ورته داسې ارشاد وشو «ای داؤده! دغه ټول شيان زمونږ په توفيق ستا په برخه شوی دی كه زما مدد له تا سره نه وی نو ته پر دغو شيانو قدرت نشی موندلی او سره له زرهاو كوششونو به هغه تر سره نشی رسولی زه پخپل جلال باندی قسم يادوم كه تا يوه ورځ ستا نفس ته پريږدم يعنی كه خپل مدد له تا څخه لرې كړم نو وبه كتلی شی چي تر كومې اندازې پورې

پخپل عبادت کښې مشغول پاتې کيدی شي ؟ او خپل دغه انتظام قائم ساتلی شي ؟ داؤد عليه السلام عرض وکړ چې يا ربه! ما په هغه ورځ خبر کړه نو دی په هغه ورځ کښې په فتنه مبتلا شو **اخرج هذا الاثر الحاکم في المستدرک و قال صحيح الاسناد واقره الذهبي في التلخيص** دغه روايت داسې څرګندوی (ښکاره کوی) چې د فتنې نوعيت ښائی صرف هم دغومره قدر وی چې په هغه وخت کښې چې داؤد عليه السلام په عبادت کښې مشتغل وی سره له پوره سعی او کوشش ونشی مشتغل کيدی او خپل انتظام قائم ونشی ساتلی لکه چې اوس مو ولوست چې په بې قاعده‌ګی او فوق طريقې سره څو تنه سرې يو ځای يو ناڅاپه د ده په عبادتخانې ورننوتل او حضرت داؤد عليه السلام ئې وويراوه او دی ئې د ده له هغه مخصوص شغل څخه منصرف او خپل جانب ته ئې متوجه کړ. سره له ډيرو پيرو او انتظام دوی د داؤد عليه السلام تر څنګه پورې ورسيدل او دوی ته هيڅا ممانعت ونه کړ، دلته داؤد عليه السلام ته داسې خيال پيدا شو چې الله تعالیٰ زه د خپلې همغې دعوی له سببه په دغې فتنې کښې مبتلا کړی يم. د فتنې د لفظ اطلاق دلته تقريباً داسې وګڼی لکه چې په حديث کښې راغلی دی چې حضرت حسن او حسين رضی الله تعالیٰ عنهما په هلکتوب کښې کميسونه اغوستلی ؤ او لړځيدونکی او ريږديدونکی (رپيدونکی) سره راتلل د رسول الله صلی الله عليه وسلم نظر د منبر له پاسه پر دوی ولويد خطبه ئې قطعه کړه او هغوی ئې راپورته کړل، او وئې فرمايل «**صدق الله. انما اموالکم واولادکم فتنة**» په ځينو آثارو کښې راغلی دی که څوک د نيکی کولو په وخت وائی ای الله! ما داسې کار کړی دی صدقه مې ورکړی، لمونځ مې ادا کړی، ډوډی مې ورکړی نو الله تعالیٰ فرمائی «او ما ستا سره مدد کړی او توفيق مې درکړی دی» او کله چې بنده وائی «ای ربه تا راسره مدد کړی او ماته دی توفيق رابښلی او راباندې احسان دی ايښی دی» نو الله تعالیٰ فرمائی «او تا عمل کړی او اراده دی کړی او تا دغه نيکی ګټلې ده» (د مدارج السالکين (۱) ج ۹۹ صفحه) له دی نه ويوهيږئ چې د حضرت داؤد عليه السلام په شان د يوه جليل القدر نبی خپل ښه انتظام ورڅرګندول (ښکاره کول) او د ده داسې فرمايل چې «ای ربه په شپه او ورځ کښې هيڅ يوه ګړی داسې نه دی چې په هغه کښې د داؤد د خيلخانې کوم يو تن ستا په عبادت يعنی په لمانځه، تسبيح، تهليل او تکبير کښې مشغول نه وی» څرنګه د الله تعالیٰ د خوښې په مورد کښې واقع کيدی شي ؟ لويان په خورا ډيری وړوکی ګناه هم نيولی کيږی نو ځکه په يوه ازموينه کښې مبتلا کړی شو څو باخبره او متنبه شي او د خپلې غلطۍ اصلاح او تدارک وکړی لکه چې تدارک او اصلاح ئې هم وکړ او په ډير ښه شان سره ئې وکړه. زما په نزد د دی آيت بې تکلفه تقرير هم دغه دی. باقی حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه د هغې مشهوری قصې په اساس څه شي چې ليکلی دی هغه دی په «موضح القرآن» کښې وکوت شي.

وَإِنَّ لَهُۥ عِندَنَا لَزُلۡفَىٰ وَحُسۡنَ مَـَٔابٖ ﴿٢٥﴾

او بیشکه ده ته په نزد زمونږ کښې خامخا مرتبه ده او ښه ځای د ورتلو دی.

**تفسیر:** یعنی لکه د پخوا په شان زمونږ د دربار له مقربانو څخه دی او په دغی غلطی سره د ده په تقرب او په مرتبه کښې څه فرق او توپیر (تفاوت) نه دی راغلی فقط لږ شانی تنبیه ورکړی شوی ده ځکه چې د مقربینو ډیره وړوکی ګناه لویه ګڼله شی «**حسنات الابرار سیئات المقربین**»

يٰدَاوٗدُ اِنَّا جَعَلۡنٰكَ خَلِيۡفَةً فِى الۡاَرۡضِ فَاحۡكُمۡ بَيۡنَ النَّاسِ بِالۡحَـقِّ وَلَا تَتَّبِعِ الۡهَوٰى فَيُضِلَّكَ عَنۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ‌ؕ اِنَّ الَّذِيۡنَ يَضِلُّوۡنَ عَنۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ لَهُمۡ عَذَابٌ شَدِيۡدٌ ۢ

ای داؤده بیشکه مونږ ګرځولی مو ئی ته خلیفه په ځمکه کښې (چې لوی سلطنت مو درکړی دی) پس حکم وکړه په منځ د خلقو کښې په حق سره او متابعت مه کوه د هوا (د نفس په احکامو کښې) پس ګمراه به کړی (دغه هوا) تا له لاری د الله، بیشکه هغه کسان چې ګمراه کیږی له لاری د الله (بعدم الایمان به) شته دوی ته عذاب سخت

**تفسیر:** یعنی ای داؤده! الله تعالیٰ په ځمکه کښې ته خپل نائب ګرځولی ئی لهٰذا د هغه پر احکامو عمل او تګ وکړه! او د معاملاتو فیصله سم د عدل او انصاف او د الله تعالیٰ له شریعت سره موافق وکړه! څو په هیڅ یوه معامله کښې هم د یوی ذری د نفسانی خواهش ادنیٰ شائبه هم پیدا نشی ځکه چې دغه شی انسان د الله تعالیٰ له لاری څخه بی لاری کوی او څه وخت چې انسان د الله تعالیٰ له لاری څخه بی لاری شو نو بیا دی د ښی ورځی او د ښه ځای خاوند نه کیږی.

بِمَا نَسُوۡا يَوۡمَ الۡحِسَابِ ﴿۲۶﴾

په سبب د هیرولو د دوی ورځی د حساب لره.

**تفسیر:** یعنی عموماً د نفسانی خواهشونو متابعت او پیروی د دی لامله (له وجی) کیږی چې د انسانانو په یاد کښې د حساب او کتاب ورځ نه پاتی کیږی که دغه ورځ ئی تل په یاد پاتی

وی چی زه هرومرو (خامخا) یوه ورځ له الله تعالیٰ سره مخامخ کیدونکی یم او د یوی ذری حساب به هم له ما څخه اخیست کیږی نو انسان به هیڅکله خپل خواهش د الله تعالیٰ پر مرضی نه وړاندی کوی.

**تنبیه:** ممکن دی چی د ﴿ یَوۡمَ الۡحِسَابِ ﴾ تعلق د ﴿ لَهُمۡ عَذَابٌ شَدِیۡدٌ ﴾ سره وی او له «نسوا» سره نه وی یعنی د الله تعالیٰ د احکامو د هیرولو په سبب به د قیامت په ورځ کښی پر دوی باندی سخت عذاب نازلیږی.

وَمَا خَلَقۡنَا السَّمَآءَ وَالۡاَرۡضَ وَمَا بَیۡنَهُمَا بَاطِلًا ؕ ذٰلِكَ ظَنُّ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا ۚ فَوَیۡلٌ لِّلَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا مِنَ النَّارِ ؕ ﴿۲۷﴾

او نه دی پیدا کړی مونږ دغه آسمان او ځمکه او هغه ګرد (تول) مخلوقات چی د دغو دواړو په منځ کښی دی په باطله سره، دغه (پیدا کول د دغو په باطله سره) ګمان د هغو کسانو دی چی کافران شوی دی. پس عذاب هلاک خرابی ده دپاره د هغو کسانو چی کافران شوی دی له اوره (چی سوځی به په کښی).

**تفسیر:** یعنی چی د هغه څه نتیجه وروسته له دی نه ظاهره نشی بلکه د دغی دنیا نتیجه آخرت دی لهٰذا انسان ته لازم دی چی د دی دنیا په هستوګنه کښی د خپل آخرت دپاره څه وګټی او هغه دا دی چی انسان دی د خپل نفسی خواهشونو متابعت پریږدی! او د حق او عدل پر اصولو دی ټینګ عامل او قائم وی! او له خالق او مخلوق له دواړو سره دی خپله معامله په ښه ډول (طریقه) سره ولری. داسی دی نه ګنی چی فقط هم دغه دنیوی ژوندون دی چی هغه به په خوړلو، څښلو او چرچو سره په پای (آخر) رسوو او وروسته له هغه حساب، کتاب، ثواب، عقاب هیڅ نشته دغسی خیالات همغه کسان لری چی وروسته له مرګه پر بل ژوندون اعتقاد نه لری او تری انکار کوی نو د دغسی منکرانو دپاره د دوزخ اور تیار دی.

اَمۡ نَجۡعَلُ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ کَالۡمُفۡسِدِیۡنَ فِی الۡاَرۡضِ ۫ اَمۡ نَجۡعَلُ الۡمُتَّقِیۡنَ کَالۡفُجَّارِ ﴿۲۸﴾

آیا وبه ګرځوو مونږ هغه کسان چی ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه) په شان د فساد کوونکو په ځمکه کښی (بلکه نه ئی ګرځوو) ؟
آیا وبه ګرځوو مونږ پرهیزګاران په شان د بدکارانو ؟ (بلکه نه ئی ګرځوو !).

**تفسیر:** یعنی زمونږ د عدل او حکمت اقتضاء داسی نه ده چی نیک ایماندار بندگان له شریرانو او مفسدانو سره برابر او یو شان کړو یا له ویریدونکیو سره هم همغسی معامله وکړو لکه چی له غاړه غړوونکیو او بیخوفه شریرانو سره ئی کوو نو ضروری شوه چی کوم وخت د حساب او کتاب، ثواب او عقاب دپاره وټاکلی (مقرر) شی. لیکن مونږ په دنیا کښی گورو چی خورا ډیر نیک او ایماندار سړی په راز راز (قسم قسم) مصائبو، آفاتو او بلیاتو کښی اخته او مبتلا وی او ډیر شریران، بدکاران او بی‌حیا سړی مزی، چرچی، عیش، عشرت کوی نو لامحاله د دی خبری تسلیم لازمیږی چی وروسته له موته یو بل حقیقی ژوندون شته چی په هغه کښی سم د صادق مخبر له وینا سره د دغی خبری فیصله سم د حکمت او مصلحت د اقتضاء سره کیږی او هلته به د هر صالح او طالح، نیک او بد د اعمالو په نسبت لازمه جزاء سزا صادریږی. نو بیا ﴿ يَوْمَ الْحِسَابِ ﴾ له اخبار څخه انکار څرنگه صحیح کیدی شی ؟.

كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ إِلَيْكَ مُبَٰرَكٌ لِّيَدَّبَّرُوٓاْ ءَايَٰتِهِۦ وَلِيَتَذَكَّرَ أُوْلُواْ ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿٢٩﴾

(دغه قرآن) یو کتاب دی چی نازل کړی مو دی هغه تاته (ای محمده !) برکتناک دی دپاره د دی چی فکر وکړی (کفار) په آیتونو د ده او دپاره د دی چی پند واخلی پری خاوندان د صافو عقلونو.

**تفسیر:** یعنی کله چی د نیک او بد انجام سره یو شان نشی کیدی نو ضروری ؤ چی کوم هدایت کوونکی کتاب د رب‌الارباب له خوا نازل شی څو خلق په ښی او معقولی او مقبولی طریقی سره د دوی له انجام څخه مطلع او خبردار کړی لکه چی په دغه وخت کښی دغه کتاب نازل شو چی ورته قرآن المبین وائی چی د هغه په الفاظو حروفو، نقوشو، معانیو، مضامینو او نورو هر هر څیزونو کښی خیر او برکت دی، او په دغه غرض نازل کړی شوی دی څو خلق د ده پر آیتونو غور او دقت وکړی، عقلمندان د ده له نصائحو څخه متمتع او منتفع شی، لکه چی د دی آیت نه پخوانی آیت ته وگوری چی په څه صاف فطری او معقولی طریقی سره ئی د «معاد» مسئله حل کړی ده چی ډیر لږ عقل لرونکی سړی هم که پری غور او فکر وچلوی نو پر یوی صحیحی نتیجی رسیږی.

**تنبیه:** ښائی له «تدبر» څخه علمیه قوت مراد وی او په «تذکر» سره د عملیه قوت د تکمیل په طرف اشاره وی دغه گردی (تولی) خبری د حضرت داؤد علیه السلام د تذکری په ذیل کښی راغلی دی وروسته له دی نه بیا د ده د دی قصی تکمیل فرمائی.

وَوَهَبْنَا لِدَاوُۥدَ سُلَيْمَٰنَ

او وموبابنه داؤد ته سليمان،

**تفسير:** يعني سليمان عليه السلام مو ورته وباښه چې د ده ځوی او د ده په شان نبي الله او باچا ؤ.

نِعْمَ الْعَبْدُ ۭ اِنَّهٗٓ اَوَّابٌ ۝۳۰ اِذْ عُرِضَ عَلَيْهِ بِالْعَشِيِّ الصّٰفِنٰتُ الْجِيَادُ ۝۳۱ۙ فَقَالَ اِنِّىْٓ اَحْبَبْتُ حُبَّ الْخَيْرِ عَنْ ذِكْرِ رَبِّيْ ۚ حَتّٰى تَوَارَتْ بِالْحِجَابِ ۝۳۲ۣ رُدُّوْهَا عَلَيَّ ۭ فَطَفِقَ مَسْحًۢا بِالسُّوْقِ وَالْاَعْنَاقِ ۝۳۳

چې ښه بنده ؤ بيشكه چې دى ډير رجوع كوونكى دى (الله ته). كله چې وړاندې كړې شو په ده باندې په آخر د ورځې كښې هغه ګرندي خاصه آسونه په درېيو پښو ولاړ او د يوې سوې نوكه ئې په ځمكه لګولې نو ووېل (سليمان) بيشكه زه چې يم غوره مې كړه مينه د آسونو په ذكر د رب خپل تر هغه پورې چې پټ شو (لمر) په پرده كښې (بيا ووېل سليمان) بيرته راولئ دغه آسونه ماته (نو ورته راتې وستل) پس شروع وكړه (سليمان) په وهلو د دې آسونو (په توره) پنډيو او غاړو (يعني پښې او غاړې ئې ترې پرې كړې او ګرد (تول) ئې حلال او خيرات كړل).

**تفسير:** شيخ الهند رحمة الله عليه د دغه وروستني آيت ترجمه داسې كړې ده «بيا راولئ هغه آسونه ماته پس ولګيد سليمان پر ځندلو د پنډيو او غاړو د دوی» يعني نهايت اصيل او ښايسته ښكلي، ښه او ګرندي تلونكي آسونه چې د جهاد دپاره ساتلي او پاللي شوي ؤ د ده په مخ كښې وړاندې كړل شول، د دغو آسونو په كتلو او معائنه ؤ كښې ښه ځنډ (تاخير) او ډيل وشو تر دې چې لمر پريووت، ښائي په دغه شغل كښې به د عصر د وخت وظيفه ده نه وی لوستلې نو د دغه په نسبت ئې ووېل خير دی كه له يوه جانبه له ذكر الله څخه ظاهراً بيلتون واقع شو نو له بل جانبه د جهاد له آسونو سره مينه او د هغو معائنه او كتنه هم له هغه ذكر الله سره لازم دى كله چې د جهاد نه راځي كه الله تعالیٰ د جهاد او آلات الجهاد تهيه او مهيا كولو ترغيب نه وی راكړی نو مونږ به له دغه ښائسته بوده (څناور) سره ولي دومره مينه او محبت كاوه ؟ نو د جهاد په دغه جوش او جذبه كښې ئې حكم وركړ چې دغه آسونه بيرته راولئ لكه چې هغه آسونه بيرته راوستلي شو نو حضرت سليمان عليه السلام له ډيرې مينې او محبته د دغو آسونو د

ورمیږونو او پنډیو په صافولو او خرخره کولو او پاکولو مصروف شو. د دی آیت دغه تقریر ځینو مفسرینو کړی دی او د «حب الخیر» له لفظ څخه د دی تائید هم کیږی ګواکی د خیر لفظ د هغه مضمون په طرف اشاره کوی چی رسول کریم صلی الله علیه وسلم په حدیث کښی فرمایلی دی «**الخیل معقود فی نواصیها الخیر الی یوم القیٰمة**» لیکن نور علماء د هغه تفسیر زمونږ د پاس ترجمی په شان داسی بیانوی کله چی حضرت سلیمان د آسونو په معائنه او کتلو کښی مشغول پاتی شو نو د هغه وختی په لمانځه یا وظیفه کښی ذهول پیښ شو او ذهول او نسیان د انبیاؤ په حق کښی محال نه دی نو وئی فرمایل چی وګورئ! د دنیوی مال محبت چی د دی خبری سبب شو چی زه د الله تعالیٰ له یاده غافل شوم تر دی چی د لمر تر پریوتو پوری هم خپله وظیفه می ادا نه کړه. سلمنا چی د دغه مال په محبت کښی هم د عبادت یوه ډډه وه او په هغه کښی هم بالمآل د ذوالجلال یاد وو مګر له خواصو او مقربینو سره دغه فکر او اندیښنی هم لګیدلی دی چی د هر عبادت هر وخت چی مقرر دی ښائی په هغه کښی له سره څه تخلف واقع نشی او که احیانا په کښی څه توپیر (فرق) واقع شی نو د هغه د غم او اندیښنی څخه سخت متأثر او ناآرامه کیږی اګر که د معذوریت له جهته هم وی.

که وی لږ کومه خځله

د سالک له باغه وروره!

سالک ژاړی ډیر غمجن وی

زړه ئی چوی له غمه وروره

د خندق په غزوه کښی وګورئ! چی د رسول کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم څو لمنځونه قضا شول سره له دی چی دوی په عین الجهاد کښی مشغول ؤ او د هیڅ یو قسم ذنب او ګناه اندیښنه هم پر دوی نه وه لیکن د هغو کفارو له تعرضه او یرغله (حمله) چی دغه واقعه وریپښه شوی وه د دوی په حق کښی د «**ملأ الله بیوتهم و قبورهم ناراً**» او نورو الفاظو سره ښیری وفرمایلی. حضرت سلیمان علیه السلام هم د یوه مؤقت عبادت له فوتیدلو څخه سخت غمجن او متأثر شو، او داسی حکم ئی صادر کړ چی هغه آسونه دی بیرته راوستل شی چی د الله تعالیٰ د یادولو د فوت سبب شوی دی کله چی هغه آسونه بیرته راوستل شول نو د الله تعالیٰ د محبت له غلبی او د غیرت له شدته ئی په توره سره د هغوی غاړی پری او پندی ئی غوڅی کړی او تول ئی د پاک الله په لاره کښی خیرات او پر فقراو ئی وویشل څو د دغه غفلت سبب له خپل ځانه په دغی وسیلی سره لری کړی چی فی الجملة د دغه ذهول کفاره شی، ممکن چی په سلیمانی شریعت کښی د اسونو قربانی جائزه وه او له ده سره په اسونه او نور بودګان (څاروی) ډیر زیات وی چی د دغو څو اسونو د قربانی کولو څخه به د جهاد په مقصد کښی هیڅ خلل او نقصان نه واقع کیده، او د ﴿ فَطَفِقَ مَسْحًا ﴾ له لفظ څخه دغه هیڅ نه لازمیږی چی ده به هغه ګرد (تول) اسونه

وژلی وی او محض هم دغومره به ئی کړی وی چې څو آسونه ئی پخپل لاس سره حلال او سر او پښې به ئی هیسته غورځولی وی والله اعلم. د دی تقریر تائید په یوه «مرفوع حدیث» سره هم کیږی چې «طبرانی» په «حسن اسناد» سره له ابی ابن کعب څخه روایت کړی دی (راجع روح المعانی وغیره).

---

## وَلَقَدۡ فَتَنَّا سُلَيۡمَٰنَ وَأَلۡقَيۡنَا عَلَىٰ كُرۡسِيِّهِۦ جَسَدٗا ثُمَّ أَنَابَ ﴿٣٤﴾

---

او خامخا په تحقیق ازمویلی دی مونږ سلیمان او غورځولی مو ؤ پر تخت د ده یو جسد (بی روحه) بیا رجوع وکړه ده (الله ته).

---

**تفسیر:** په صحیح حدیث کښې راغلی دی چې حضرت سلیمان علیه السلام قسم یاد کړ چې «زه نن شپه د خپلو ګردو (تولو) ښځو کره ځم چې په شمیر اویا - یا نوی یا سلو ته نژدی ښځی وی او زما هره یوه ښځه به یو یو هلک وځیږوی چې دغه تول به د الله تعالیٰ په لاره کښې جهاد وکړی» پرښتی دغه خبره ورالقا کړه چې «ان شاء الله» ووایئ! سره له دی چې ان شاء الله ئی په زړه کښې ؤ مګر په ژبه ئی ان شاء الله ونه فرمایل. د الله تعالیٰ کارونو ته وګورئ چې له هغه مباشرت څخه د ده د دومره ښځو کره یو وړوکی هم پیدا نشو یواځی له یوی ښځی څخه یو ناقص مولود موجود شو. ځینی مفسرین وائی چې دایه همغه ناقص مولود د ده پر تخت وغورځوه او ورته ئی وویل «درواخله دا ده ستا د قسم نتیجه!» همغه ئی دلته په «جسد» (جثه) سره تعبیر کړی دی د دغه وضعیت د لیدلو څخه سلیمان علیه السلام سره له افسوسه او ندامته د الله تعالیٰ په طرف رجوع وکړه او د ان شاء الله په نه ویلو ئی استغفار وکړ. «هو! مقربینو ته زیات ربړونه (تکلیفونه) او زحمتونه پیښیږی» په حدیث کښې راغلی دی که ان شاء الله ئی ویلی وی نو بیشکه الله تعالیٰ به همغسی کړی وی چې د ده آرزو او تمنا وه.

**تنبیه:** اکثرو مفسرینو د دی آیت تفسیر په بل ډول (طریقه) سره کړی دی او پر دغه موقع کښې ډیری بی اساسی قصی د حضرت سلیمان علیه السلام د ګوتمی او د پیریانو نقل کړی دی هر څوک چې د هسی قصو د لوستلو شوق لری هغوی دی همغو تفاسیرو ته رجوع وکړی ابن کثیر رحمة الله علیه لیکی **«وقد رویت هذه القصة مطولة عن جماعة من السلف رضی الله تعالیٰ عنهم وکلها متلقاة من قصص اهل الکتاب والله سبحانه و تعالیٰ اعلم بالصواب»**.

---

## قَالَ رَبِّ ٱغۡفِرۡ لِي وَهَبۡ لِي مُلۡكٗا لَّا يَنۢبَغِي لِأَحَدٖ مِّنۢ بَعۡدِيٓۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡوَهَّابُ ﴿٣٥﴾

وویل (سلیمان) ای ربه زما مغفرت ببښنه وکړه ماته او راکړه ماته داسی ملک لوی سلطنت چی نه ښائیږی (او نه وی) بل هیچا لره وروسته له ما (او غیر له ما) شخه، بیشکه هم دا ته (ای زما ربه!) ته ډیر ببښونکی ورکوونکی ئی.

**تفسیر:** یعنی داسی عظیم الشان سلطنت عنایت وفرمایه چی ماسواء له ما ځنی د بل هیچا په برخه نه وی او نه بل څوک د هغه اهل ثابت شی یا به ئی دا مطلب وی چی هیڅوک د دی خبری قوت او قدرت ونه لری چی هغه له ما څخه په زور واخیستی شی.
**تنبیه:** په احادیثو کښی د هر یوه نبی یوه دعا شته چی د هغه په نسبت الله تعالیٰ د اجابت وعده فرمایلی ده یعنی هغه دعا ضرور قبوله شوی ده ښائی د حضرت سلیمان علیه السلام دا دعا همغه دعا وی څرنګه چی حضرت سلیمان علیه السلام نبی او په عین زمان کښی د باچا ځوی ؤ نو د هغه دعا هم په هم داسی وضعیت او کیفیت سره مختصه وه څو ده ته لوی سلطنت ورکړی شی مګر په اعجازی ډول (طریقه) سره کله چی دغه زمانه د زورورو باچایانو او د جبارینو وه نو په دغه حیثیت سره هم دغه دعا د همغی زمانی له حیثیت او وضعیت سره موافقه او مناسبه وه او ظاهر دی چی د انبیاؤ علیهم السلام مقصد د ملکونو له حاصلولو څخه د خپل شوکت او حشمت مظاهره او خلقو ته ئی ښودنه مقصود نه ؤ، بلکه د الله تعالیٰ د دین د غلبی اظهار او انتشار د دوی له عمده ؤ مقاصدو څخه ؤ، او غوښت چی د ځمکی په مخ کښی هغه سماوی قانون په ښه ډول (طریقه) سره اجرا او تنفیذ ومومی چی دوی د هغه حاملان او ناشران دی لهٰذا نه ښائی چی دغه دعا د نورو دنیادارانو پر دعا قیاس کړه شی. نو دغه پاس دعا د سلیمان قبوله شوه لکه چی داسی فرمائی

فَسَخَّرْنَا لَهُ الرِّيحَ تَجْرِي بِأَمْرِهِ رُخَاءً حَيْثُ أَصَابَ ﴿٣٦﴾ وَالشَّيَاطِينَ كُلَّ بَنَّاءٍ وَغَوَّاصٍ ﴿٣٧﴾

پس مسخر تابع کړ مونږ دغه (سلیمان) ته باد چی چلیده په امر حکم د ده سره نرم نرم هر چیرته چی اراده به وشوه د ده. او (مسخر کړل مونږ ده ته پیریان) شیطانان هر بنا کوونکی (د ښو لوړو (اوچتو) عمارتو) او غوته وهونکی (په لویو بحارو کښی دپاره د ایستلو د جواهرو)

**تفسیر:** یعنی پیریانو د حضرت سلیمان علیه السلام په حکم ډیر لوی لوی عمارتونه جوړول، او مرغلری او نور قیمتداره شیان به ئی له بحارو او سیندونو څخه په غوته وهلو سره ایستل ، د

هوا او د پیریانو د تسخیر او تابع گرځولو په نسبت پخوا له دی نه د «سبا» په سورت او په نورو ځایونو کښی لازمه تفصیلات لیکلی شوی دی.

وَّاٰخَرِيْنَ مُقَرَّنِيْنَ فِى الْاَصْفَادِ ﴿۳۸﴾

او (تابع مو کړ سلیمان ته) نور (سرکش شیطانان) تړلی شوی په ځنځیرونو کښی (لپاره د تادیب او دفع د ضرر).

**تفسیر:** یعنی ډیر نور پیریان ؤ چی هغوی د سرکشی او تمرد لامله (له وجی) په بندی خانه کښی غورځولی شوی ؤ (داسی وموفرمایل سلیمان ته).

هٰذَا عَطَآؤُنَا فَامْنُنْ اَوْ اَمْسِكْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۳۹﴾

دغه (سلطنت او تسخیر) عطاء ببنه زمونږ ده پس احسان کوه (له هر چا سره) یا ئی وساته (له خپل ځان سره) بی له حسابه.

**تفسیر:** یعنی که چاته عطاء او ببنه ورکړی یا ور نه کړی مختار ئی دومره بیحساب ئی ورکړ، او بیا د حساب او کتاب قید ئی هم تری لری کړ، حضرت شاه صاحب لیکی «دغه بله مهربانی ده چی دغومره دولت او دنیا ئی ورکړه، او مختار ئی وگرځوه، حساب او کتاب ئی هم ورمعاف کړ، مگر ده به پخپله د خپل لاس له گټی څخه ډوډی خوړه چی توکری به ئی جوړولی.

وَاِنَّ لَهٗ عِنْدَنَا لَزُلْفٰى وَحُسْنَ مَاٰبٍ ﴿۴۰﴾ ع

او بیشکه چی ده ته په نزد زمونږ خامخا قرب دی (په دنیا کښی) او ښه ځای د ورتلو دی (په عقبیٰ کښی).

**تفسیر:** یعنی سره له سلطنته هغه روحانی تقرب او مرتبه چی زمونږ په نزد سلیمان علیه السلام ته حاصله ده او په اعلیٰ فردوس کښی له اعلیٰ څخه اعلیٰ ځای چی د ده دپاره تیار دی هغه خو علیٰحده او جلا (جدا) دی.

وَاذْكُرْ عَبْدَنَآ اَيُّوْبَ ۘ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗٓ اَنِّىْ مَسَّنِىَ الشَّيْطٰنُ بِنُصْبٍ وَّعَذَابٍ ﴿۴۱﴾ ط

او یاد کړه (ای محمده!) بنده زمونږ ایوب کله چې غږ ئې وکړ رب خپل ته چې بیشکه زه چې یم مس کړی یم شیطان په ایذاء او تکلیف سره.

**تفسیر:** د عظیم الشان قرآن له تتبع څخه ظاهریږی چې په هغو امورو کښې چې په کوم پلو کښې شر یا ایذاء وی یا کوم صحیح مقصد فوتیږی د هغه نسبت د شیطان په طرف کیږی لکه چې د موسیٰ علیه السلام په قصه کښې راغلی دی ﴿وَمَآ أَنسَىٰنِيهُ إِلَّا ٱلشَّيۡطَٰنُ أَنۡ أَذۡكُرَهُۥ﴾ د ۱۵ جزء الکهف ۹ رکوع ۶۳ آیت زمونږ د دغه مبارک تفسیر څکه چې علی الاکثر د دغه قسم شیانو قریب سبب یا بعید سبب په یوه نه یو درجه کښې شیطان وی د هم دغې قاعدی په موجب حضرت ایوب علیه السلام د خپلی رنځوری یا د تکلیف او رږ (زحمت) نسبت د شیطان په طرف وکړ ګواکی تواضعاً یا تأدباً ئې دغه ښکاره کړه چې ضرور له ما څخې څه تساهل یا کومه غلطی زما له درجی سره سمه صادره شوی ده چې د هغې په نتیجه کښې دغه آزار راورسید یا د مرض په حالت او شدت کښې به شیطان د وساوسو د القاء او د خرخشو (خطرو) د غورځولو زیار(محنت) او کوشش کړی وی او ده به د هغه په مدافعت کښې تکلیف او تعب احساس کړی وی نو هغه ئې په «نصب» او «عذاب» سره تعبیر فرمایلی دی والله اعلم.

**تنبیه:** د حضرت ایوب علیه السلام قصه د «انبیاء» په سورت کښې تیره شوی ده هلته دی وکتله شی مګر واضح دی وی چې د حضرت ایوب علیه السلام د قصی په نسبت کومی افسانی چې قصه ویونکی جوړی کړی دی په هغو کښې ډیره مبالغه شته. داسی مرض چې په عمومی ډول (طریقه) سره د عامو خلقو په حق کښې د تنفر او استقذار موجب وی د انبیاؤ علیهم السلام له وجاهت سره منافی ده **کما قال الله تعالیٰ** ﴿لَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ ءَاذَوۡاْ مُوسَىٰ فَبَرَّأَهُ ٱللَّهُ مِمَّا قَالُواْۚ وَكَانَ عِندَ ٱللَّهِ وَجِيهٗا﴾ (د جزء ۲۲ الاحزاب ۹ رکوع ۶۹ آیت) لهٰذا ښائی هغومره بیان ومنلی شی چې د نبوت له منصب سره منافی نه وی.

نو د الله تعالیٰ جل وعلا شانه وعظم برهانه له جانبه جبریل علیه السلام ایوب علیه السلام ته داسی وویل.

ٱرۡكُضۡ بِرِجۡلِكَۖ هَٰذَا مُغۡتَسَلُۢ بَارِدٞ وَشَرَابٞ ۝٤٢ وَوَهَبۡنَا لَهُۥٓ أَهۡلَهُۥ وَمِثۡلَهُم مَّعَهُمۡ رَحۡمَةٗ مِّنَّا وَذِكۡرَىٰ لِأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ ۝٤٣

ووهه (څمکه) په پښه خپله (نو وی وهله او اوبه راووتی) دغه ده ځای د غسل یخ او اوبه د څښلو (نو غسل ئې وکړ اوبه ئې وڅښلی جوړ شو) او وموبښل دغه (ایوب) ته اهل د ده (په بیرته ژوندی کولو) او په مثل د دوی له هغوی

سره له جهته د مهربانی له خپله طرفه او دپاره د ذکر پند اخیستلو خاوندانو د صافو عقلونو ته.

**تفسیر:** کله چی الله تعالیٰ داسی اراده وفرمایله چی ایوب علیه السلام روغ او جوړ وگرځوی نو پری حکم ئی وکړ چی خپله پښه پر ځمکه ووهه. هم دا چی ده خپله پښه پر ځمکه ووهله د الله تعالیٰ په کامله قدرت له هغه ځایه د یخو اوبو چینه وخوتیده چی ده په هغه کښی غسل وکړ او له هغو اوبو څخه ئی وڅښلی او هم دغه د ده د شفاء سبب شو او د ده د هغی کورنی خلقو په مقابل کښی چی د کوتی تر چت لاندی مړه شوی وو پخپلی مهربانی او فضل سره دوچنده خیلخانه ورعطاء کړه څو عقلمن خلق د دغو واقعاتو له لیدلو څخه په دی ښه وپوهیږی هغه بنده چی په مصائبو کښی مبتلا کیږی ښائی صبر وکړی او الله ته رجوع وکړی څو ئی د ده حفاظت کفایت، کفالت، او اعانت په ښه شان سره وفرمائی. (وموفرمایه ایوب ته داسی)

وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا فَاضْرِب بِّهِ وَلَا تَحْنَثْ ۗ إِنَّا وَجَدْنَاهُ صَابِرًا ۚ نِّعْمَ الْعَبْدُ ۖ إِنَّهُ أَوَّابٌ ﴿٤٤﴾

او ونیسه په لاس خپل جارو (د کنکو۔ دکو) پس ووهه په هغه جارو (د کنکو۔ دکو) سره (ښځه خپله) او مه ماتوه ځان خپل (په ترک د وهلو کښی) بیشکه موږ وموند موږ دغه (ایوب) صبرناک (په سختیو) ښه بنده ۇ دی، بیشکه چی دی ډیر رجوع کوونکی ۇ الله ته.

**تفسیر:** حضرت ایوب علیه السلام د رنځوری په حالت کښی پر کومی خبری خفه شوی ۇ او قسم ئی یاد کړی ۇ کله چی زه روغ شوم نو پر خپله ښځه به سل گزارونه وکړم حال دا چی دغه بي‌بي (رحیمه) د ابتلا په دغه حالت کښی د ده صادقه خدمتگاره او صمیمه خادمه وه او چندان داسی کوم قصور او خطا ئی هم نه درلوده (لرله) چی د وهلو وړ (قابل) وی نو الله تعالیٰ د ده د قسم د رښتیا کولو یوه حیله (چل) وروښوده چی فقط هم ده ته مخصوصه ده او که نن څوک داسی قسم یادوی نو د هغه د پوره کولو لپاره به دغومره یوه خبره کافی نه وی.
**تنبیه:** په هغه حیله (چل) سره چی د کوم شرعی حکم یا د نبی د حکم ابطال په عمل راځی هغه جائز نه دی، لکه د زکوٰة، اسقاط او نوری حیلی (چلونه) او پلمی (تدبیرونه) چی خلقو له طرفه جوړی او ایستلی شوی دی هو! هره هغه حیله (چل) چی کوم شرعی حکم نه باطلوی بلکه د کوم معروف کار ذریعه گرځی د هغو اجازه شته والتفصیل یطلب من مظانه.

وَاذْكُرْ عِبٰدَنَآ اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ اُولِي الْاَيْدِيْ وَالْاَبْصَارِ ﴿۴۵﴾

او یاد کړه (ای محمده!) بندګان زما ابراهیم او اسحاق او یعقوب خاوندان د لاسونو او د سترګو (کوونکی د صالحه ؤ اعمالو لیدونکی د آیات الله).

**تفسیر:** یعنی د عمل او معرفت خاوندان چی په خپلو لاسونو او پښو به ئی عبادت او بندګی کوله او په خپلو سترګو سره به ئی د الله تعالیٰ قدرتونه کتل او په هغه سره به ئی خپل یقین او بصیرت زیاتوه.

اِنَّآ اَخْلَصْنٰهُمْ بِخَالِصَةٍ ذِكْرَى الدَّارِ ﴿۴۶﴾

بیشکه مونږ خالص کړی مو دی دوی په خالص خوی سره په ذکر یادولو د کور (د آخرت).

**تفسیر:** د انبیاؤ امتیاز دا دی چی د دوی په شان بل هیڅوک د الله تعالیٰ او د آخرت یادوونکی نشته. او د هم دغه خصوصیت لامله (له وجی) دوی د الله تعالیٰ په دربار کښی له ګردو (تولو) څخه زیات ممتاز مراتب او مدارج حاصلوی.

وَاِنَّهُمْ عِنْدَنَا لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ الْاَخْيَارِ ﴿۴۷﴾ وَاذْكُرْ اِسْمٰعِيْلَ وَالْيَسَعَ وَذَا الْكِفْلِ ۖ وَكُلٌّ مِّنَ الْاَخْيَارِ ﴿۴۸﴾

او بیشکه دوی په نزد زمونږ خامخا له غوره کړیو شویو بهترو خلقو (د زمانی خپلی) وو او یاد کړه (ای محمده!) اسمٰعیل او الیسع او ذوالکفل (خاوند د ضمانت)، او دغه تول (مذکورین) ؤ له خاوندانو د خیر (په خلقو کښی).

**تفسیر:** د حضرت اسمٰعیل علیه السلام او ذوالکفل علیه السلام ذکر پخوا له دی نه تیر شوی دی او الیسع علیه السلام ته وائی چی د حضرت الیاس علیه السلام خلیفه ؤ چی هغه ته هم الله تعالیٰ نبوت ورعطاء کړی ؤ.

هٰذَا ذِكْرٌ ۭ

حال دا چې دغه (بیان د انبیاؤ) ذکر پند دی (هر پند اخیستونکی ته یا په دنیا کښې ښه ذکر د دوی دی)،

**تفسیر:** یعنی دغه مذکور خو د انبیاء ؤ وروسته له دی نه د عامو متقیانو انجام واورئ!.

وَإِنَّ لِلْمُتَّقِينَ لَحُسْنَ مَآبٍ ﴿٤٩﴾ جَنَّٰتِ عَدْنٍ مُّفَتَّحَةً لَّهُمُ الْأَبْوَٰبُ ﴿٥٠﴾

او بیشکه دپاره د پرهیزګارانو خامخا ښه ځای د ورتلو دی (په آخرت کښې) جنتونه دی د همیشه هستوګنی په دی حال کښې چې تل پرانستلی وی دوی ته دروازی (د جنتونو).

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «کله چې جنتیان په جنت کښې ننوځی نو هر یو جنتی به بی د بل چا د ورښوولو سم برابر خپلی مانی او باغ او تاکلی (مقرر) ځای ته ورځی» او د دی خبری ضرورت به ورته نه وی پاتی چې غږ وکړی یا ناری ووهی یا د وره د پرانستلو په انتظار کښې ودریږی.

مُتَّكِـِٔينَ فِيهَا يَدْعُونَ فِيهَا بِفَٰكِهَةٍ كَثِيرَةٍ وَشَرَابٍ ﴿٥١﴾

تکیه وهلی (ناست به وی مؤمنان) په دغو (جناتو) کښې چې غواړی به (دغه جنتیان) په هغو کښې میوی ډیری او څیزونه د) څښلو.

**تفسیر:** قسماقسم میوی، دانی، خوراک او نور مطلوبه شیان به دوی ته غلمان سم د دوی له غوښتنی سره سم د لاسه ورحاضر وی.

۞ وَعِندَهُمْ قَٰصِرَٰتُ الطَّرْفِ أَتْرَابٌ ﴿٥٢﴾

او وی به په نزد د دوی ښځی بندونکی د سترګو (میړو (خاوندانو) خپلو ته) همځولی (پخپل منځ کښې یا له میړو (خاوندانو) سره).

**تفسیر:** یعنی تولی ښځی به پیغلی نوی جونی او په یوه عمر او یوه منګ وی یا په اشکال او شمائل عادات، اطوارو کښې به له خپلو ازواجو سره هم عمر او یو شان وی. نو د الله تعالیٰ له

جانبه پرښته به ورته داسي وائي

هٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِيَوْمِ الْحِسَابِ ﴿۵۳﴾ إِنَّ هٰذَا لَرِزْقُنَا مَا لَهُ مِن نَّفَادٍ ﴿۵۴﴾

دا هغه دی چې وعده به ئی کوله کیده (له تا سره په دنیا کښې دپاره د خوښی) د ورځی د حساب. بیشکه چې دغه خامخا داسی رزق زمونږ دی چې نشته ده لره خلاصیدل.

**تفسیر:** یعني غیر منقطع او لازواله نعمتونه دی چې د هغوی سلسله به له سره هیچیری نه ختمیږی او نه کمیږی.

رزقنا الله منها بفضله وکرمه فانه اکرم الاکرمین وارحم الراحمین.

هٰذَا ۚ وَإِنَّ لِلطَّاغِينَ لَشَرَّ مَآبٍ ﴿۵۵﴾ جَهَنَّمَ يَصْلَوْنَهَا فَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۵۶﴾ هٰذَا فَلْيَذُوقُوهُ حَمِيمٌ وَغَسَّاقٌ ﴿۵۷﴾

دغه (حال د مطیعانو وو) او بیشکه دپاره د سرکشانو خامخا بده مرجع ده (چې هغه) دوزخ دی چې ننوځی دوی په هغه کښې، پس بده بستره ده (دا دوزخ). دا دی عذاب د کفارو پس ودی څکی دوی دا ایشیدلی اوبه (چې توتې توتې کیږی کلمی د دوی) او (د دوزخیانو د جراحاتو بدبویه) زوی

**تفسیر:** یعني د متقیانو او پرهیزګارانو انجام مو واورید وروسته له دی نه د شریرانو انجام واورئ! او بیشکه لپاره د سرکشانو خامخا بده مرجع دوزخ دی چې ننوځی دوی په هغه کښې پس بده بستره ده دا دوزخ دا دی عذاب پس ودی څکی دوی دا. یعني درواخله! دغه درحاضره ده د هغه خوند وڅکه!. له «غساق» څخه ځیني وائي چې د دوزخیانو د پرهارو زوی او ویني او نوری چتلی مراد دی چې په هغو کښې به د منګورانو (مارانو) او لړمانو او د نورو زهر هم ګډ وی. او د ځینو په نزد «غساق» خورا ډیرو یخو او بی نهایته سړو اوبو ته وائي چې د هغو له څکلو څخه له حده زیات تکلیف او اذیت وررسیږی. ګواکی په دغه تقدیر سره دغه د «حمیم» ضد او کامل مقابل دی چې «غساق» سوځول کوی له ډیری یخنی خپلی څخه لکه چې سوځول کوی «حمیم» له ډیر ګرمی خپلی نه) والله اعلم.

وَّاٰخَرُ مِنۡ شَكۡلِهٖۤ اَزۡوَاجٌ ﴿٥٨﴾ هٰذَا فَوۡجٌ مُّقۡتَحِمٌ مَّعَكُمۡ ۚ لَا مَرۡحَبًۢا بِهِمۡ ؕ اِنَّهُمۡ صَالُوا
النَّارِ ﴿٥٩﴾ قَالُوۡا بَلۡ اَنۡتُمۡ ۟ لَا مَرۡحَبًۢا بِكُمۡ ؕ اَنۡتُمۡ قَدَّمۡتُمُوۡهُ لَنَا ۚ فَبِئۡسَ الۡقَرَارُ ﴿٦٠﴾

او څه بل (قسم عذاب) له قسمه د هغه تير عذاب راز راز قسمونه. دغه يو فوج دی (د تابعانو) چې ننوتونکی دی په سختۍ له تاسی سره نه دی وی خوشالي ځای د آرامي دوی ته، بيشکه چې دوی ننوتونکی دی اور ته، وائی (دغه تابعان متبوعانو ته) بلکه تاسی چې يئ نه دی وی خوشالي په تاسی (په ځای مونډلو د آرامي) تاسی راوړاندی کړی دی دغه (عذاب) مونږ ته پس بد قرار ځای دی (دا دوزخ).

**تفسير:** دغه خبری او اتری به دوزخيان په خپلو منځونو کښی سره کوی څه وخت چې پرښتی دغه دوزخيان پرله پسی په شړلو او تيل وهلو سره د دوزخ پر څنډو (غاړو) ودروی ړومبی ډله به د غټانو او سردارانو وی. وروسته له هغه به د دوی د تابعانو او پيروانو وی. د دغو تابعانو د ليدلو په وخت کښی به له لری څخه دغه متبوعان وائی چې «دغه دی يو بل فوج له تاسو سره يو ځای په تيل وهلو او کشولو او راښکودلو سره په دوزخ کښی د غورځولو دپاره په زور راوستل کيږی. د الله تعالیٰ قهر او غضب دی وی پر دوی باندی دوی هم دلته د رېړ (تکليف)، زحمت او عذاب ګاللو (برداشت کولو) دپاره راغلل، الله تعالیٰ دی وکړی چې دوی ته په بل کوم ځای کښی کوم ارت مکان ور نه کړ شي» د دغی خبری د آوريدلو په اثر به هغوی د دوی جواب داسی ورکوی «ای کمبختانو! پر تاسی باندی دی د الله تعالیٰ قهر او غضب وی! پاک الله دی تاسو ته هيڅيری د هوسائی (راحت) او آرامي ځای در نه کړی!، هم دغه تاسو وئ چې زمونږ د اغواء او اضلال وسائل مو راتيار کړی ؤ، او مونږ ستاسی له لمسونه او غولولو نه په دغه کنده کښی ولويدو او په دغه سخت مصيبت او آفت کښی اخته شو اوس دغه راوښيئ چې چيری لاړ شو ؟ هر څه چې دی هم دغه دريدلو ځای دی په هر ډول (طريقه) سره چې کيږی هم دلته خپل ځانونه تر هغه پوری تينګ او کلک کړئ! چې ګرد (تول) سره ومرئ! او يو پر بل باندی خوله ولګوئ! او په خپلو منځونو کښی سره وخری!.

قَالُوۡا رَبَّنَا مَنۡ قَدَّمَ لَنَا هٰذَا فَزِدۡهُ عَذَابًا ضِعۡفًا فِى النَّارِ ﴿٦١﴾

وبه وائی (تابعان) ای ربه زمونږ هر چا چې ړومبی تياره کړی ده مونږ ته دغه لاره (د کفر) پس زيات کړه ورته عذاب دوچنده په اور کښی.

**تفسیر:** یعنی په خپل منځ کښې به یو بل ته طعن او لعن وائی او بالاخر الله تعالیٰ ته به داسی عرض کوی چی «ای ربه! هغه کسان چی له خپل شقاوته ئی دغه بلا او مصیبت زمونږ پر سر راوستلی دی د دوزخ په دوچنده عذاب ئی اخته او مبتلا کړه!» ښائی چی دوی به داسی وګڼی چی د دوی د دوچنده عذاب ګاللو (برداشت کولو) په لیدلو سره زمونږ لږ څه زړونه پری یخ شی حال دا چی هلته به د تسلی او اطمینان وسائل او سامان چیری وی؟ دغه یو بل ته طعن او لعن او کنځلی او سپکی ویل به هم دوی ته یو ځان ته مستقل عذاب وی.

وَقَالُوا مَا لَنَا لَا نَرَىٰ رِجَالًا كُنَّا نَعُدُّهُم مِّنَ الْأَشْرَارِ ﴿٦٢﴾ أَتَّخَذْنَاهُمْ سِخْرِيًّا أَمْ زَاغَتْ عَنْهُمُ الْأَبْصَارُ ﴿٦٣﴾

وبه وائی (مشرکان د کفارو) څه مانع ده مونږ ته چی نه وینو هغه سړی چی وو مونږ چی شمیرلی مو وو هغوی له اشرارو څخه. آیا نیولی مو وو دوی په مسخرو سره یا که کږی (چپی) شوی دی له هغوی څخه سترګی زمونږ (چی نه ئی وینو په دوزخ کښی)

**تفسیر:** هلته به دوی وګوری چی ګرد (تول) د دوی دوستان، آشنایان، خپلوان او نور تول اعلیٰ او ادنیٰ خلق سره یو ځای غونډ او تول کړی شوی دی چی ګرد (تول) سره یو ځای په دوزخ کښی وغورځول شی، مګر د هغو مسلمانانو پته او درک به دوی ته نه وی معلوم چی دوی له هغوی سره آشنائی او پیژندګلوی درلوده (لرله) او پری توکی او مسخری به ئی کولی نو په حیرت او افسوس سره به داسی ووائی چی مونږ څرنګه چتی (بیکاره) او غلط کارونه کول چی له هغوی سره به مو مسخری او توکی کولی حال دا چی دوی د هغو وړ (لائق) او قابل نه ؤ هم دا ده چی نن هغوی هیڅ د دوزخ په شاؤ خوا او اطرافو کښی نه ښکاری یا خو هغوی هم په دغو خلقو کښی دی مګر زمونږ په سترګو نه ښکاری یا زمونږ له سترګو څخه چیری الوتی دی.

إِنَّ ذَٰلِكَ لَحَقٌّ تَخَاصُمُ أَهْلِ النَّارِ ﴿٦٤﴾

بیشکه دغه (مذکوره قصه د اهل النار) خامخا حقه رښتیا ده جګړه کول د دوزخیانو په منځ خپل کښی.

**تفسیر:** یعنی په ظاهر سره دغه خبره خلاف القیاس ښکاری چی په هغی ویری او خوف او

پریشانی کښې به دوی یو له بل سره جګړې او مناقشې کوی او دوی به څرنګه د عذاب په دغې هولناکې منظرې کښې بل لورې ته متوجه کیدی شی ؟ مګر په یاد ئې ولره چې هم داسې به کیږی او دغسې پیښه بیخي په یقیني او واقعي ډول (طریقه) پیښیدونکې ده چې په کښې هیڅ د شک او شبهې ځای نشته او په حقیقت کښې دغه د هغوی د عذاب تکمیل دی.

قُلْ إِنَّمَآ أَنَا۠ مُنذِرٌ ۖ وَمَا مِنْ إِلَـٰهٍ إِلَّا ٱللَّهُ ٱلْوَٰحِدُ ٱلْقَهَّارُ ﴿٦٥﴾ رَبُّ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ٱلْعَزِيزُ ٱلْغَفَّـٰرُ ﴿٦٦﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) بیشکه هم دا خبره ده چې زه ویروونکی یم (د عالم له عذابه) او نشته هیڅ بل حق معبود بې له الله چې یو ډیر قهر کوونکی دی. رب د آسمانونو او د ځمکې او د هغو ټولو شیانو دی چې په منځ د دوی کښې دی (ملکاً خلقاً و عبیداً) ښه غالب قوی دی (په انفاذ د احکامو) ښه ښښونکی دی (د خطیاتو).

**تفسیر:** ووایه ای محمده! منکرانو ته چې زما کار خو هم دغومره دی چې تاسې د هغه راتلونکی خوفناک ساعت له راتګه باخبره او هوښیار کړم او له هغې سختې پیښې او ویروونکی واقعې څخه مو بیخبره پرې نه ږدم باقی ستاسې معامله او سؤال او جواب له هغه حاکم او قاضي سره چې واقع کیدونکی دی هغه خو همغه احکم الحاکمین واحد الله تعالیٰ دی چې د هغه په مخ کښې هیڅ لوی او وړوکی له سره سا نشی اخستی او هر شی او هر څوک د ده په مقابل کښې عاجز، ناتوانه او ضعیف دی. د آسمانونو او ځمکې په منځ کښې هیڅ یو شی داسې نه دی چې د ده تر واک (اختیار) او تصرف لاندې نه وی تر هغه وخته پورې چې د ده اراده وی دغه علویات او سلفیات قائم ساتی او څه وخت چې اراده وفرمائی خراب، ابتر، لاندې باندې او ویجاړوی ئې د دغه عزیز قوی غالب الله تعالیٰ د قدرت لاس څوک نیولی شی ؟ او د ده د زبردستې قبضې څخه هیڅوک نه وتلی او نه تښتیدلی شی ؟ او ورسره د ده د لامحدوده او بې نهایته رحمت او ښښنې په محدودولو او محصورولو کښې هیڅوک هیڅ وسعه او اقتدار نه لري.

قُلْ هُوَ نَبَؤٌا۟ عَظِيمٌ ﴿٦٧﴾ أَنتُمْ عَنْهُ مُعْرِضُونَ ﴿٦٨﴾

ووایه (ای محمده !) دوی ته دغه (قرآن یا عذاب) خبره ډیره لویه ده چې تاسې له دی نه مخ ګرځوونکی یئ (او هیڅ غور په کښې نه کوئ).

**تفسیر:** یعني قیامت او د هغه سخت اهوال کوم معمولي شی نه دی او ډیر لوی درونډ او مهم مصیبت او خورا (ډیره) غټه خبره ده چې زه د هغه خبر او اطلاع تاسی ته درکوم ﴿ عَمَّ يَتَسَاءَلُونَ عَنِ النَّبَإِ الْعَظِيمِ الَّذِي هُمْ فِيهِ مُخْتَلِفُونَ ﴾ (د نبأ ۱ رکوع ۳۰ جز) مګر افسوس چې تاسی له هغه څخه بیخي بیفکره یئ! او پر هر هغه شی چې د تاسی د خیر او ښیګڼې (فائدې) دپاره ویل کیږي هیڅ فکر، غور او دقت نه کوئ بلکه بالعکس له هغه څنې توکې او مسخرې جوړوئ او پرې پوچنډې (تمسخر) او ملنډې وهئ، او په استهزاء سره داسی پوښتنې کوئ چې قیامت کله راځي ؟ او د څه لامله (له وجې) په راتګ کښې ئې ډیل او معطلي واقع ده ؟ او ولې هم دا اوس نه راځي ؟ خیر قیامت هر وخت چې راځي رادی شي، مګر زمونږ د قیامت برخه دی خو هم دا اوس راکړه شي! و غیر ذلک که ماته وحی شوی نه وی نو د آسمانونو حال به مې کله ویلی شو څکه چې.

مَا كَانَ لِيَ مِنْ عِلْمٍ بِالْمَلَإِ الْأَعْلَىٰ إِذْ يَخْتَصِمُونَ ﴿٦٩﴾ إِنْ يُوحَىٰ إِلَيَّ إِلَّا أَنَّمَا أَنَا نَذِيرٌ مُبِينٌ ﴿٧٠﴾

نشته ما لره هیڅ قدر علم پوه په هغه تولي ډیر پورته لوی (د ملائکو) کله چې سره جګړې ئې کولې (په شان د آدم کښې یې له وحیه). وحی نه کوله کیږي ماته مګر د دی چې بیشکه هم دا خبره ده چې زه ویروونکی یم ښکاره (له عذابه).

**تفسیر:** ملاء الاعلیٰ یعني پاسنی جرګه د مقربینو ملائکو او د نورو مجلس دی چې د هغو په واسطه د الٰهیه ؤ تدابیرو او د کونیه وو تصرفاتو ظهور راځي. یعني په ملاء الاعلیٰ کښې د عالم د نظام د فناء او بقاء په متعلق کوم تدابیر یا ابحاث او قیل او قال چې کیږي، زه له هغو څخه نه وم خبر چې تاسی ته به مې د هغه بیان کوه پر کومې اجزاء باندې چې زه د الله تعالیٰ له طرفه مطلع شوی یم هغه مې بیان کړی دی. زه هر څه چې وایم د همغه الله تعالیٰ د وحی، الهام، اعلام له مخې ئې وایم، ماته داسی حکم راکړی شوی دی چې ګرد (تول) عالم د هغو له راتلونکی مستقبل څخه خبردار کړم او د هغه توضیحات په ښکاره ډول (طریقه) سره دوی ته ورکړم پاتې شوه دغه خبره چې قیامت کله راتلونکی دی ؟ نه د انذار دپاره زه دغی خبری ته څه ضرورت لرم او نه د دی خبری اطلاع چاته ورکړی شوی ده. په یوه حدیث کښې راغلی دی چې د ټولو انبیاؤ علیهم السلام په مجمع کښې د قیامت تذکره د مباحثې موضوع شوه. چې په کښې وویل شول چه د قیامت قیام به کله وی ؟ ګردو (تولو) سره دغه غوته کره چې د حضرت ابراهیم علیه السلام څخه دی پوښتنه وکړه شي خلیل الله وفرمایل چې زه تری نه یم خبر بیا ئې له

حضرت موسیٰ علیه السلام څخه سؤال وکړ هغه هم وفرمایل چی زه هم نه یم خبر. بالاخر ګردو (تولو) له حضرت مسیح علیه السلام څخه سؤال وفرمایه مسیح وویل چی د «وجة الساعه» یا د عین القیامت د وقوع وخت علم له سره له ما سره نشته. هو! الله تعالیٰ له ما سره وعده فرمائلی ده الخ. په یو حدیث کښی راغلی دی چی حضرت مسیح علیه السلام له حضرت جبریل علیه السلام څخه د قیامت د راتګ د وخت پوښتنه وکړه، ده په جواب کښی وویل «**ما المسئول عنها باعلم من السائل**» یعنی زه له تانه پر دغه موضوع باندی زیات پوه نه یم. معلوم شو چی په ملأ الاعلیٰ کښی د قیامت په نسبت هم داسی قسم څه مباحثه او مذاکره کیږی، علاوه پر دی نور ډیر مسائل هم دی چه د هغه په متعلق یو شان مذاکره او قال او قیل جاری دی. لکه چی په یوه حدیث کښی الله تعالیٰ له دوی څخه پوښتنه کړی ده «**فیم یختصم الملأ الاعلیٰ**» او د دوی اجوبه مذکور دی. مګر د ملأ الاعلیٰ له مذاکراتو څخه ماسواء الله ځنی بل هیڅوک نه دی خبر، او نه تری خبریدی شی، هم دغه ذریعه ده چی په هغی سره دوی د اهل النار له تخاصم او جګړی څخه مطلع شول. او هغه تخاصم چی د آدم علیه السلام او ابلیس په معامله کښی وشو چی ذکر ئی اوس راځی هغه هم په هم دغه ذریعه راڅرګند (ښکاره) شو.

---

إِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّى خَٰلِقٌۢ بَشَرًا مِّن طِينٍ ﴿٧١﴾

---

(یاد کړه) هغه وقت چی وفرمایل رب ستا پرښتو ته چی بیشکه زه پیدا کوونکی یم د یو بشر (آدم) له ختی څخه.

---

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «دغه هم د پرښتو یوه مباحثه وه چی بیان ئی وفرمایه».

---

فَإِذَا سَوَّيْتُهُۥ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِى

---

پس کله چی برابر کړ ما (قالب د) هغه (په ښه شکل سره) او پو کړ ما په هغه قالب کښی له روح خپل

---

**تفسیر:** یعنی قالب کالبوت ئی په ډیر ښه ډول (طریقه) سره جوړوم بیا په کښی خپل روح پوکم. حضرت شاه صاحب لیکی «روحی ـ خپله سا» ئی ځکه وفرمایله چی هغه له اوبو او خاوری څخه نه دی جوړ شوی او د غیب له عالمه راغلی دی. څه مضمون د روح په متعلق د «بنی اسرآئیل» په سورت زمونږ په دغه مبارک تفسیر کښی پخوا لیکلی شوی دی هلته د روح پر اضافت هم څه رڼا (رڼرا) غورځولی شوی ده ښائی چی هغه دی ولوست شی!

فَقَعُوا لَهُ سٰجِدِيْنَ ﴿۷۲﴾ فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُوْنَ ﴿۷۳﴾ إِلَّآ إِبْلِيْسَ ط

پس پریوځئ (تاسی ټول ای پرښتو! تعظیماً) ده ته سجده کوونکی پس سجده وکړه ملائکو ټولو دوی ګردو (کلهمو) مګر ابلیس (چې هغه ونه کړه سجده)

**تفسیر:** دغه د آدم علیه السلام قصه په «البقرة» او «الاعراف» او په نورو سورتونو کښې پخوا له دی نه هم تیره شوی ده او د «الاعراف» په تفاسیرو کښې مو مفصل بحث پری کړی دی هلته دی ولوست شی!.

اِسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۷۴﴾

او لوئی وکړه او وو دی (په علم د الله کښې) له کافرانو.

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «دغه ابلیس په اصل کښې جن ؤ چې علی الاکثر د الله تعالیٰ له احکامو منکران دی لیکن بیا د خپل عبادت له کثرته او د نورو اسبابو په بناء په پرښتو کښې اوسیده».

قَالَ يٰٓإِبْلِيْسُ مَا مَنَعَكَ أَنْ تَسْجُدَ لِمَا خَلَقْتُ بِيَدَيَّ ط

وفرمایل (الله) ای ابلیسه څه شیز منع کړی ئی ته له دی نه چې سجده وکړی (ته) هغه شیز ته چې پیدا کړی دی ما په دواړو (بلا کیف) یدو خپلو

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «یعنی بدن ئی د قدرت په ظاهری لاس او روح ئی د قدرت په غیبی (باطنی) لاس سره جوړ کړ. الله تعالیٰ غیبی شیان پخپل یو شان قدرت سره او ظاهری شیان په بل شان قدرت سره جوړوی او پر دغه انسان باندی ئی خپل دواړه اقسامه قدرت صرف کړی دی» د «المائدة» په (۹) رکوع ٦٤ آیت زمونږ د دغه مقدس تفسیر کښې دی ﴿بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ يُنْفِقُ كَيْفَ يَشَآءُ﴾ تفسیر ملاحظه شی زمونږ په نزد د الله تعالیٰ په نعوتو او صفاتو کښې د اسلافو هم هغه مسلک اقوی او احوط دی.

أَسْتَكْبَرْتَ أَمْ كُنْتَ مِنَ الْعَالِيْنَ ﴿۷۵﴾

آیا تکبر دی وکړ یا که ئی ته له لویانو.

**تفسیر:** آیا په قصد او عمد سره دی خپل ځان لوی وګانه یا په واقع کښې ته خپله مرتبه لویه بولې.

قَالَ اَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ ۖ خَلَقْتَنِيْ مِنْ نَّارٍ وَّخَلَقْتَهٗ مِنْ طِيْنٍ ﴿۷۶﴾

وویل (ابلیس په جواب کښې) زه غوره یم له دغه (آدم) ځکه پیدا کړی دی یم زه له اوره او پیدا کړی دی دی دغه (آدم) له ختو.

**تفسیر:** د «الاعراف» په سورت کښې د دی بیان تیر شوی حضرت شاه صاحب لیکی «اور دی ګرم پرجوشه او خاوره ده یخه او خاموشه ابلیس اور ښه وګانه او پاک الله خاوره غوره او خوښه کړه».

قَالَ فَاخْرُجْ مِنْهَا فَاِنَّكَ رَجِيْمٌ ﴿۷۷﴾ ۖ

وفرمایل (الله) پس ووځه له جنته (یا له ملکی صورته ای ابلیسه!) پس بیشکه ته رټلی شوی ئی.

**تفسیر:** یعنی شیطان جنت ته د پرښتو د ملاقات دپاره ورتلو اوس له هغه ځایه وویست شو او ورته وویل شول چی ووځه له جنته یا له ملکی صورته پس بیشکه ته رټلی شوی ئی له رحمته ویشتلی شوی ئی په شغلو سره.

وَّاِنَّ عَلَيْكَ لَعْنَتِيْۤ اِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ ﴿۷۸﴾

او بیشکه پر تا دی لعنت زما تر ورځی د جزاء پورې.

**تفسیر:** یعنی تر هغه وخته پورې پر تا باندی ستا د اعمالو د شامت لامله (له وجی) لعنت وریږی او ستا د شقاوت مرتبې زیاتیږی. وروسته له هغه چی عذاب او بلیات چی پر تا نازلیدونکی او ته په هغو کښې اخته کیدونکی ئی د هغه له احواله څه پوښتنې مه کوه!. وروسته راځی چی ﴿ لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكَ وَمِمَّنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴾ د اخروی لعنت په مقابله کښې دغه دنیوی لعنت هیڅ اهمیت نه لری.

قَالَ رَبِّ فَأَنظِرْنِيٓ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿٧٩﴾

وویل (ابلیس) ای ربه زما پس مهلت راکړه ماته تر هغی ورځی پوری چی پورته کول شی مړی (له قبورو نه)

**تفسیر:** یعنی د صور (شپیلی) تر دوهمی نفخی پوری.

قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ ٱلْمُنظَرِينَ ﴿٨٠﴾ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْوَقْتِ ٱلْمَعْلُومِ ﴿٨١﴾

وفرمایل (الله) پس بیشکه ته (ای ابلیسه!) له مهلت ورکړ شویو څخه ئی. تر ورځی د وخت معلوم پوری (چی نفخة الاولیٰ ده).

**تفسیر:** یعنی د اولی نفخی تر قریب پوری نه وروسته له هغه نه.

قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٨٢﴾
إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴿٨٣﴾ قَالَ فَٱلْحَقُّ وَٱلْحَقَّ أَقُولُ ﴿٨٤﴾

وویل (ابلیس) پس قسم دی په عزت ستا چی خامخا گمراهان به کړم هرومرو (خامخا) دوی تول. مگر هغه بندگان ستا له دوی څخه چی خلاص کړی شوی دی (له شرک شک عصیان څخه چی مؤمنان دی) نو وفرمایل (الله) چی پس حقه خبره هم دا ده او حقه خبره زه وایم.

**تفسیر:** یعنی زما گردی (تولی) خبری رښتیا او په واقع سره برابری او منطبقی وی. او زه همیشه وایم دغسی چی

لَاَمۡلَـَٔنَّ جَهَنَّمَ مِنۡكَ وَمِمَّنۡ تَبِعَكَ مِنۡهُمۡ اَجۡمَعِيۡنَ ﴿۸۵﴾ قُلۡ
مَاۤ اَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ اَجۡرٍ وَّمَاۤ اَنَا مِنَ الۡمُتَكَلِّفِيۡنَ ﴿۸۶﴾ اِنۡ
هُوَ اِلَّا ذِكۡرٌ لِّلۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۸۷﴾ وَلَتَعۡلَمُنَّ نَبَاَهٗ بَعۡدَ حِيۡنٍ ﴿۸۸﴾

---

خامخا ډک به کړم هرومرو (خامخا) دوزخ له تانه (او ستا له اولاد نه) او له هغه چا نه چې متابعت ئې کړی وی ستا له دغو (انسانانو) نه له تولو څخه. ووایه (ای محمده! دوی ته) نه غواړم زه له تاسی په دی (قرآن یا تبلیـغ) ځان ته هیڅ اجر او نه یم زه له تکلیف کوونکیو نه (په جوړولو د قرآن کښی له ځانه) نه دی دغه (قرآن) مگر پند دی دپاره د عالمیانو او خامخا عالمان به شئ هرومرو (خامخا) په خبر (د صدق) د دی (قرآن) لږ څه وروسته (پس له یو مدت چې د قیامت ورځ ده)

---

**تفسیر:** یعنی له نصیحت څخه دا غرض دی چې تاسی د خپل دوست او دښمن په منځ کښی سره فرق او تمیز وکړئ! او د لعین شیطان په لاره چې ستاسی ازلی دښمن دی مه ځئ! د انبیاؤ خبره ومنئ چې ستاسی د خیر غوښتنی دپاره لیږلی شوی دی. زه له تاسی څخه د دغه نصیحت څه اجر، صله او معاوضه نه غواړم او نه څه شی له خپله ځانه جوړوم چې تاسی ته ئې وایم هر هغه شی چې پاک الله زه پری پوهولی یم همغه زه تاسی ته وایم او دررسوم ئې. لږ مدت وروسته تاسی به پخپله معلوم کړئ چې دغه اخبار او اطلاعات چې تاسی ته درکړی شوی دی تر کوم ځای پوری صحیح او درست دی ؟ او کوم نصائح چې کړی شوی دی څرنگه رښتیا او مفید وه.

**تمت سورة «صٓ» بعون الله رب العباد وحسن توفيقه ولله الحمد والمنة**

سورة الزمر مكية الا الآيات ٥٢ و ٥٣ و ٥٤ فمدنية وهی خمس وسبعون آية وثمانی رکوعات رقمها (٣٩) تسلسلهاحسب النزول (٩٥) نزلت بعد سورة سبأ

د «الزمر» سورت مکی دی پرته (علاوه) له (٥٢ و ٥٣ و ٥٤ ) آیتونو چی مدنی دی ٧٥ آیات ٨ رکوع لری په تلاوت کښی (٣٩) او په نزول کښی (٩٥) سورت دی وروسته د «السبا» له سورت څخه نازل شوی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع) کوم، په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ①

رالیږل د دی کتاب (قرآن پر محمد) دی له (جانبه د هغه) الله چی ډیر زبردست قوی غالب د حکمتونو خیښتن (خاوند) دی.

**تفسیر:** کله چی زبردست او زورور او غالب (په انفاذ د احکامو) دی نو ځکه د هغه کتاب انتشار او انفاذ او اجراء مومی او هیڅ یو مقابل او مزاحم د ده د شیوع او د انفاذ مخه نشی نیولی او حکیم دی چی هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی نو ځکه د دنیا هیڅ یو کتاب د ده له محاسنو او ښیګڼو (فائدو) سره مقابله نشی کولی.

اِنَّآ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ فَاعْبُدِ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ ② اَلَا لِلّٰهِ الدِّيْنُ الْخَالِصُ ؕ

بیشکه مونږ نازل کړی مو دی تاته (ای محمده!) کتاب (قرآن) په حقه سره پس عبادت کوه د الله حال دا چی خالص کوونکی ئی دغه (الله) ته د دین (خپل له شرک) واورئ خبردار اوسئ خاص الله لره دی دین (او طاعت) خالص

**تفسیر:** یعنی حسب المعمول د الله تعالیٰ تل داسی بندګی کوئ چی د شرک او ریاء او له نورو شوائبو څخه پاک وی! او د الله تعالیٰ په طرف قولاً او فعلاً خلقو ته دعوت او بلنه کوئ! او اعلان

وفرمایئ چی الله تعالیٰ همغه بندگی قبوله فرمائی چی خالص د همغه دپاره وی. د الله تعالیٰ په دربار کښی د هغه عمل له سره پوښتنه نه کیږی چی له اخلاصه تش وی.

---

وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ ۘ مَا نَعْبُدُهُمْ اِلَّا لِيُقَرِّبُوْنَآ اِلَى اللّٰهِ زُلْفٰى ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِيْ مَا هُمْ فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ۬ؕ

---

او هغه کسان چی نیولی ئی دی غیر له دغه (الله) څخه نور دوستان (وائی) نه کوو عبادت د دوی مگر دپاره د دی چی نژدی کړی دوی مونږ طرف د الله ته نژدی کول، بیشکه الله به فیصله (حکم) کوی په منځ د دوی کښی په هغه څیز کښی چی دوی په هغه سره اختلاف کوی

---

**تفسیر:** عموماً مشرکینو به داسی ویل چی مونږ د دغو وړوکیو معبودانو او بتانو عبادت ځکه کوو چی دوی زمونږ د نزدیکی او قرب وسیله د پاک الله په دربار کښی کیږی او هغه پر مونږ مهربانی وفرمائی چی په دغه وسیله سره زمونږ کار یو سر او صورت ونیسی. د هغه جواب ئی وفرمایه چی په دغو چتی (بیکاره) او پوچو چلونو، پلمو (تدبیرونو) او حیلو (بهانو) سره چی تاسی په خالص توحید کښی جگړی او مناقشی وړاندی کوئ او له اهل الحق سره اختلاف کوئ نو د هغه عمل فیصله به د الله تعالیٰ له طرفه وروسته له دی نه وکړه شی.

---

اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ مَنْ هُوَ كٰذِبٌ كَفَّارٌ ③

---

بیشکه الله نه ښیی سمه لاره د هدایت هغه چاته چی دی دروغجن وی ناشکره.

---

**تفسیر:** یعنی هر چا چی پخپل زړه کښی دغه خبره غوټه کړی وی چی زه به له سره رښتیا خبره نه منم او تل به په دروغو او ناحقو خبرو ټینګ ولاړ یم او له حقیقی منعم څخه مخ اړوم او د دروغو محسنینو او باطلو خدایانو عبادت کوم نو د الله تعالیٰ دا عادت دی چی دغسی بد باطنانو ته د فوز، فلاح، بری او کامیابی لاره نه ښیی.

---

لَوْ اَرَادَ اللّٰهُ اَنْ يَّتَّخِذَ وَلَدًا لَّاصْطَفٰى مِمَّا يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۙ سُبْحٰنَهٗ ؕ

که چری اراده فرمایلی وی الله (په زعم د مشرکانو) د دی چی ونیسی ولد نو خامخا غوره کړی به ئی وی له هغه مخلوقه چی پیدا کوی ئی هر هغه چی اراده ئی فرمایلی وی پاکی ده الله لره (له ولده او تولو عیوبو)

**تفسیر:** له دی ځایه د هغو کسانو تردید دی چی د الله تعالیٰ دپاره د اولاد تجویز کوی لکه چی نصاریٰ حضرت مسیح علیه السلام ته د الله ځوی وائی او ورسره له دریو خدایانو څخه یو خدای الله هم منی. یا د عربو ځینو هغه قبائلو چی پرښتو ته به ئی د الله تعالیٰ لونی ویلی، مطلب دا دی که په فرض المحال سره الله تعالیٰ داسی اراده فرمایلی وی چی د ده کوم اولاد وی نو ښکاره ده چی ده به له خپله مخلوقه کوم یو د دغه کار دپاره غوره کوو ځکه چی له دلایلو څخه ثابت شوی دی چی له یوه الله څخه ماسواء نور تول شیان د همغه الله مخلوق دی. اوس ظاهر دی چه په مخلوق او خالق کښی په هیڅ یوه درجه کښی هم نوعی یا هم جنسی اشتراک نشته بیا یو د بل پلار یا ځوی څرنگه کیدی شی ؟ او کله چی په خالق او مخلوق کښی د دغسی تعلقاتو وجود محال دی نو د الله تعالیٰ له طرفه به داسی اراده هم محال وی. علاوه پر دی فرض ئی کړئ که دغه کار محال هم نه وی نو بیا د پرښتو لونی گرځول خو په هیڅ ډول (طریقه) په فهم او پوه کښی نشی راتلی. نو کله چی له مخلوقه څخه انتخاب وتاکلی (مقرر کړی) شی نو بیا د دغی خبری مقصد به څه وی چی خوار او سپک اولاد ځان ته غوره کړی او دروند او پتمن اولاد تاسی ته غوره او در ئی کړی ؟

هُوَ اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿۴﴾

هم دی دی الله یواځی (بی شریکه لا ولده) ډیر غالب (پر هر شی).

**تفسیر:** یعنی هر څیز د الله تعالیٰ په مخ کښی عاجز ناتوانه تیټ او ښکته دی د هیڅا اثر او نفوذ پری نشته او نه کوم شی ته اړ (مجبور) او محتاج دی، نو بیا د اولاد جوړول او لرلو معنی او غرض به څه وی ؟.

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ يُكَوِّرُ الَّيْلَ عَلَى النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ عَلَى الَّيْلِ

پیدا کړی دی (الله) آسمانونه او ځمکه په حقه سره (چی دلیل شی په وجود د صانع مطلق)، تاووی (نغاړی داخلوی الله) شپه پر ورځی او تاووی (نغاړی

داخلوی الله) ورځ په شپه کښې (یا زیاتوی د شپې نه په ورځې او له ورځې نه په شپې باندې)

**تفسیر:** په ماښام کښې که د لمرخاته په لوری وګورئ نو داسی به درښکاری چه افق څخه یوه تکه توره لویه پرده راپورته کیږی چی له خپل مخ څخه د ورځی رڼا (رنړا) د لمر لویدو په لوری تاووی او ورنغاړی ئی. هم داسی ګهیځ (سحروختی) د سپیده داغ په وخت کښی داسی درښکاری چی د ورځی رڼا (رنړا) د شپی ظلمت او تیاره د لمرخاته له خوا راښری او د لمر له پلوه ئی راښری او د لمر پریوتو په لوری ئی تیل وهی. حضرت شاه صاحب لیکی چی «پر یوه باندی بل داسی غوړیږی او راځی چی په منځ کښی کوم ماتوالی او نقص نه واقع کیږی»

وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِي لِأَجَلٍ مُسَمًّى أَلَا هُوَ الْعَزِيزُ الْغَفَّارُ ۞

او مسخر کړی په کار لګولی ئی دی لمر او سپوږمی، چی هر یو روان دی تر نیتی په نامه کړی شوی پوری (چی ورځ د قیامت ده) واورئ خبردار شئ چی الله ښه زبردست قوی غالب ښه ښښونکی دی.

**تفسیر:** یعنی په هم دغه زبردست قدرت سره ئی دغه انتظام قائم او دائم او ټینګ کړی دی. د خلقو ګستاخی سپین سترګی او شرارتونه خو داسی دی چی ښائی د هغه په ملحوظ دغه ګرد (تول) انتظامات ګدود او دړی وړی کړی شی لیکن کله چی الله تعالیٰ لوی ښښونکی او درګزر کیدونکی ذات دی نو د خپلی عفوی او مغفرت له شانه یو مخلی داسی نه کوی.

خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَأَنْزَلَ لَكُمْ مِنَ الْأَنْعَامِ ثَمَانِيَةَ أَزْوَاجٍ

(الله) پیدا کړی یئ تاسی له نفس یوه (آدم) څخه بیا ئی پیدا کړه له دغه (نفس واحد یعنی آدم) څخه جوړه د ده (حواء) او نازل (پیدا) ئی کړل لپاره د (نفعی د) تاسی له چارپایانو څخه (لکه اوښان غوایان پسونه اوزی) اته جوړی (نر او ښځی).

**تفسیر:** یعنی آدم علیه السلام او د ده جوړه بی‌بی حواء رضی الله تعالیٰ عنها ئی پخپل قدرت سره پیدا کړل یعنی نر او ښځی او ستاسی د نفعی او ګټی (فائده) اخسیتلو دپاره په انعامو او

مواشیو کښې ئې هم اته جوړې پیدا کړې اوښ غوائې، پسه، وزه، چې د هغوی ذکر د انعام په سورت کښې تیر شو (وګورئ).

يَخۡلُقُكُمۡ فِي بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمۡ خَلۡقٗا مِّنۢ بَعۡدِ خَلۡقٖ فِي ظُلُمَٰتٖ ثَلَٰثٖۚ

پیدا کوی (الله) تاسی په ګیډو د میندو ستاسی کښې یو قسم پیدایښت وروسته له یو بل قسم پیدایښت په تیارو دریو کښې (چې مشیمې او د رحم او د ګیډې دی).

**تفسیر:** یعنې په تدریج سره مو پیدا کړ، مثلاً له نطفې څخه علقه او له علقې څخه مضغه، او بیا مو ترې هډوکې پیدا او د هغه له پاسه مو غوښه ورشنه کړه، او بیا مو په هغه کښې روح ورپو کړ. **فسبحٰن الله احسن الخالقین.** (فی ظلمات ثلاث ـ په تیارو دریو کښې). یعنې یوه ګیډه بل رحم، دریم هغه پرده (پیلاز) چې په منځ کښې ئې مولود پیدا کیږې او مولود په کښې تاو شوی متولد کیږي.

ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ لَهُ ٱلۡمُلۡكُۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ فَأَنَّىٰ تُصۡرَفُونَ ۝٦

دغه (موصوف په دغو صفاتو) الله دی رب ستاسی خاص ده ته دی ملک سلطنت (بی زواله). نشته بل هیڅوک لائق د عبادت مګر هم دی یوائحې پس کوم طرف ته ګرځولی شئ تاسی (له عبادت د ده نه)

**تفسیر:** یعنې کله چې خالق، رب، مالک او ملک هم دی دی نو ماسواء له ده څخه بل څوک څرنګه معبود کیدی شي ؟ وروسته له دی نه چې تاسی واحد الله تعالیٰ په دغو صفاتو سره موصوف ګڼئ او پرې اقرار کوئ، نو بیا نورو مخلوقاتو ته ولی عبادت کوئ ؟ مطلب دا چې وروسته له دومره ورنژدی رسیدلو نو بیا ولی سمه لاره در څخه ورکیږي ؟ او دغه پر بلې لاری ولی درومئ ؟.

إِن تَكۡفُرُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ عَنكُمۡۖ وَلَا يَرۡضَىٰ لِعِبَادِهِ ٱلۡكُفۡرَۖ

که چېرې کفر اختیار کړئ تاسی پس بیشکه الله غنی بی پروا دی له تاسی (او ستاسی له عبادته) او نه خوښوی (الله) دپاره د بندګانو خپلو کفر (اګر که ئې فرمائلې وی اراده د کفر له بعضو نه).

**تفسیر:** یعني که کافر کیږئ او د الله تعالیٰ له انعاماتو او حقوقو څخه انکار کوئ! نو په دغه کښې پخپله ستاسي نقصان دی او د الله تعالیٰ هیڅ یو شی تاسي نشئ خرابولی. هو! هرومرو (خامخا) الله تعالیٰ په کفر خوښ او رضاء نه دی او د خپلو بندګانو پر کفر او انکار خفه او نارضاء کیږي او دغه شیان دوی ته نه خوښوی او د رضاء په سترګه سره ئی نه ګوری.

وَإِن تَشۡكُرُواْ يَرۡضَهُ لَكُمۡۗ

او که شکر وباسئ (په نعمت د اسلام) نو خوښوی دغه (شکران الله) تاسي ته،

**تفسیر:** یعني که بندګان د الله تعالیٰ حق ومني او ده ته مطیع او شکر ګزار شي نو دغه خبره د الله تعالیٰ خوښه ده او د هغه نفعه هم دوی ته رسیږي.

وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰۗ

او وابه نخلي بار هیڅ بار اخیستونکی بار د ګناهونو د بل چا،

**تفسیر:** یعني داسي کیدونکي نه دي چي یو سړی ناشکري وکړي او په جرم او ګناه ئی بل څوک ونیولی شي داسي تیاره او بی تمیزي د ده په دربار کښې نه نشته او «هر چا چي هر څه کړلي وي همغه به هلته ریبي».

ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُم مَّرۡجِعُكُمۡ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ۝

بیا خاص رب ستاسي ته بیرته ورتله ستاسي دی پس خبر به کړی تاسي پر هغو (عملونو) چي وئ تاسي چي کول به مو (په دنیا کښې)، بیشکه دغه (الله) ښه عالم دی په خبرو د سینو (د زړونو په پټو نیاتو هم).

**تفسیر:** کله چي دوی هلته وررسیږي د دوی ګرد (تول) ښه او بد اعمال د دوی په مخ کښې وړاندی کیږي او د دوی هیڅ لوی یا وړوکی کار به له منځه نه ورک کیږي ځکه چي د الله

تعالیٰ له محیط علم څخه هیڅ یو شی خارج نه دی. الله تعالیٰ د زړونو له پټو خبرو او نیاتو څخه هم علیم او خبیر دی او په هر شی په ښه شان سره پوهیږی.

وَإِذَا مَسَّ الْإِنسَانَ ضُرٌّ دَعَا رَبَّهُ مُنِيبًا إِلَيْهِ ثُمَّ إِذَا خَوَّلَهُ نِعْمَةً مِّنْهُ نَسِيَ مَا كَانَ يَدْعُو إِلَيْهِ مِن قَبْلُ وَجَعَلَ لِلَّهِ أَندَادًا لِّيُضِلَّ عَن سَبِيلِهِ ۚ

او کله چی ورسیږی انسان (کافر) ته کوم قسم سختی نو بولی رب خپل په دی حال کښی چی رجوع کوونکی وی خاصه هم ده ته (شکوونکی له نورو) بیا هر کله چی ورکړی (الله) ده ته نعمت له خپل جانبه نو هیر کړی هغه (ذات الله) چی ؤ دی چی په کښی باله به ئی (تضرع به ئی کوله) هغه (الله) ته پخوا له دی نعمته او گرځوی الله ته شریکان (په عبادت کښی) دپاره د دی چی گمراه کړی (خلق) له لاری د الله (چی دین د اسلام دی)،

**تفسیر:** یعنی د انسان حالت او وضعیت عجیب دی کله چی پری کوم غم او مصیبت واقع شی نو مونږ ئی په یادیږو او دی زمونږ په ذکر او فکر کښی لویږی، ځکه چی دی ښه پوهیږی چی ماسواء الله څخه بل هیڅوک د دغه مصیبت لری کوونکی نشته. بیا هر کله چی د الله تعالیٰ په لطف او مهربانی سره لږ څه آرام او اطمینان ئی په نصیب شی سم د لاسه دی خپل همغه پخوانی حالت ته مراجعت او پخپلو همغو اعمالو کښی مداومت کوی او هغه پاک الله تری هیریږی چی هم دا اوس د هغه په دربار کښی ئی عرضونه او دعاوی کولی او ناری او سوری ئی وهلی، او د عیش او تنعم په نشو کښی داسی مست او غافل کیږی چی گواکی له سره زمونږ سره ئی واسطه او علاقه نه وه. د الله تعالیٰ د ورکړیو نعمتونو نسبت نورو د دروغو او له خپلو ځانونو جوړ کړیو خدایانو ته منسوبوی او له هغوی سره همغسی سلوک او معامله کوی چی ښائی له واحد الله تعالیٰ سره وکړی شی په دی ډول (طریقه) سره هم دوی پخپله گمراه کیږی او هم پخپلو دغو اقوالو او اعمالو سره نور خلق بی لاری او گمراه کوی.

قُلْ تَمَتَّعْ بِكُفْرِكَ قَلِيلًا ۖ إِنَّكَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ ۝

ووایه (ای محمده! دغه کافر ته) چی نفع واخله په کفر خپل لږ (مدت په دنیا کښی). بیشکه ته له یارانو د اور (د دوزخ) ئی.

**تفسیر:** یعنی ښه ده، ځو ورځی د هم دغه کفر په حالت کښی دلته عیش او عشرت وکړئ! او

تر هغه پوري چې الله تعالیٰ تاسې ته مهلت درکړی دی د دنیا له نعمتونو څخه فائده واخلئ! او ترې متمتع شئ! وروسته له دې نه به ستا د هستوګنې ځای دوزخ وي چې له هغه ځایه له سره نشي وتلی او تل به هم هغلته پراته یئ او له سره به دې نجات نه په برخه کیږي.

أَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ آنَاءَ اللَّيْلِ سَاجِدًا وَقَائِمًا يَحْذَرُ الْآخِرَةَ وَيَرْجُوا رَحْمَةَ رَبِّهِ ۗ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ۗ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الْأَلْبَابِ ﴿٩﴾

آیا هغه څوک چې دی طاعت کوونکي وي په ساعتونو د شپې کښې سجده کوونکی او ولاړ (په لمانځه) ویریږي (له عذابه) د آخرت او امید لري د رحمت د رب خپل (داسې دی لکه هغه څوک چې بې فرمانه وي په کفر او نورو بدیو) ووایه (ای محمده!) آیا برابر دي سره هغه کسان چې پوهیږي (او خاوندان د علم دي) او هغه کسان چې نه پوهیږي (جاهلان وي، بلکه برابر نه دي) بیشکه هم دا خبره ده چې پند اخلي خاوندان د خالصو عقلونو.

**تفسیر:** یعني هر هغه بنده چې د شپې خوب او آرامي پریږدي او د الله تعالیٰ په عبادت کښې لګیا کیږي، کله د ده په حضور کښې لاس تړلی دریږي، کله په سجده ورته لویږي، له یوه جانبه د ده زړه د آخرت له ویرې بې قراره کړی شوی وي او له بل جانب د الله تعالیٰ رحمت او مهرباني ته هیلمن (ارزومند) او امید وار وي آیا دغه سعید بنده او هغه بدبخته انسان چې ذکر ئې پاس وشو چې د مصیبت په وخت کښې الله تعالیٰ ته ناري وهي او څه مهال (وخت) چې مصیبت له ده نه لرې کیږي نو الله هم ترې هیریږي سره برابر کیدی شي؟ بلکه نه! له سره نشي سره برابر کیدئ. او که داسې وي نو داسې ووایه چې د یوه عالم او جاهل او یوه پوه او ناپوه په منځ کښې بیخي څه فرق او توپیر (تفاوت) نشته مګر په هم دغې خبرې باندې هم هغه پوهیدی شي او غور کولی شي چې پاک الله ورته څه عقل او پوه ورکړی وي.

قُلْ يَا عِبَادِ الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا رَبَّكُمْ ۚ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ ۗ

ووایه (ای محمده! دوی ته د الله له جانبه) ای بندګانو زما هغه چې ایمان ئې راوړی دی (یعني ای مؤمنانو) وویریږئ له (عذابه د) رب خپل شته هغو کسانو ته چې نیکي ئې کړې ده په دغه دنیا کښې (په طاعت سره) نیکي

(په آخرت چې جنت او رضوان دی)،

**تفسیر:** یعنی هر هغه څوک چې په دنیا کښې نیکي وکړي نو په آخرت کښې هم د ده دپاره نیکي او ښیګڼه (فائده) ده یا ئې دا مطلب هر چا چې نیکي وکړه هغه ته پخوا له عقبیٰ په هم دغې دنیا کښې هم ښیګڼه (فائده) او نیکي وربه برخه کیږي اعم له دې نه چې ظاهري وي که باطني.

وَأَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةٌ ۗ إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿١٠﴾

او ځمکه د الله ارته ده، بیشکه هم دا خبره ده پوره ورکوه شي صابرانو ته اجر ثواب د دوی بې حسابه (ډیر زیات).

**تفسیر:** یعنی که په یوه ملک کښې خلق له نیکۍ او ښیګڼې (فائدې) څخه ممانعت کوي نو د الله تعالیٰ ځمکه ارته او فراخه ده بل ملک ته لاړ شئ څو هلته په آزادئ او خپلواکئ سره د الله تعالیٰ احکام په ځای راوړئ. بیشکه په دې صورت کښې به د ترک الوطن له سببه تاسې په ډیرو مصائبو اخته او مبتلا کیږئ او په راز راز (قسم قسم) خلاف العادت او خلاف الطبیعت امورو باندې په صبر او تحمل کولو اړ او مجبوریږئ. لیکن دا مو په یاد وي چې د هغه په مقابل کښې به ډیر ثواب هم دررسیږي چې د دغه اجر او ثواب په برابر کښې چې داسې مهاجرینو ته ورکوه کیږي دغه ګردې (ټولې) سختۍ او تکالیف هیڅ شی دی.

قُلْ إِنِّي أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّينَ ﴿١١﴾ وَأُمِرْتُ لِأَنْ أَكُونَ أَوَّلَ الْمُسْلِمِينَ ﴿١٢﴾

ووایه (ای محمده! دوی ته) بیشکه زه چې یم امر حکم کړی شوی دی ماته د دې چې عبادت کوم یواځې د الله چې خالص کوونکی یم ده ته (د) دین (بندګي خپلې). او امر حکم کړی شوی دی ماته چې شم زه اول د مسلمانانو (د دې امت).

**تفسیر:** لکه چې ته په عالم الشهادت کښې د دې امت په لحاظ او په عالم الغیب کښې د ټولو اولینو او آخرینو په اعتبار د الله تعالیٰ له ګردو (ټولو) څخنې ړومبنی حکم منونکی او مطیع بنده ئې. صلی الله علیه وسلم.

قُلْ إِنِّيٓ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٣﴾

ووايه (ای محمده!) بیشکه زه ویریږم که چری نافرمانی وکړم د رب خپل له عذابه د ورځی لوئی (د قیامت).

**تفسیر:** یعنی زما په شان یو معصوم او مقرب بنده هم که په فرض محال سره نافرمانی وکړی نو په دغه ورځ کښی له عذاب څخه نشی مأمون او مصئون کیدی نو د نورو څه پوښتنه کوئ ؟.

قُلِ اللَّهَ أَعْبُدُ مُخْلِصًا لَّهُۥ دِينِي ﴿١٤﴾ فَاعْبُدُوا۟ مَا شِئْتُم مِّن دُونِهِۦ

ووایه (ای محمده!) الله ته عبادت کوم په دی حال چی خالص کوونکی یم ده ته (د) دین خپل (له شرکه). پس عبادت کوئ تاسی د هر هغه شیز چی اراده وکړئ تاسی غیر له الله.

**تفسیر:** یعنی زه خو د الله تعالیٰ له حکم سره موافق په نهایت اخلاص او صمیمیت سره د هغه واحد احد الله تعالیٰ عبادت کوم. تاسی مختار ئی چی د هر چا عبادت کوئ او هر چاته چی مو زړه غواړی سرونه ښکته کړئ، هو! دغومره فکر او دقت وکړئ! او له غور څخه کار واخلئ! چی ستاسی آخره خاتمه او انجام به څرنګه کیږی ؟ **(وکان ذلک قبل الامر بالقتال)** وروسته له دی نه د دوی هغه عاقبت او خاتمه داسی څرګندوی (ښکاروی)

قُلْ إِنَّ ٱلْخَٰسِرِينَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ وَأَهْلِيهِمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۗ أَلَا ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْخُسْرَانُ ٱلْمُبِينُ ﴿١٥﴾

ووایه (ای محمده!) بیشکه زیان کاران هغه کسان دی چی زیان ئی رسولی دی ځانونو خپلو ته او اهل خپل ته په ورځ د قیامت کښی، واورئ خبردار شئ چی دغه (خسران) هم دغه دی زیان ښکاره.

**تفسیر:** یعنی مشرکین نه خپلو ځانونو ته د الله تعالیٰ له عذابه نجات ورکولی شی او نه خپلی کورنی او خیلخانی ته څه فائده او نجات ببنلی شی او ګرد (تول) د جهنم د شغلو ځنی جاړول

(قربانول) شي. له دی نه به زیاته نور څه خساره وی ؟

لَهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِّنَ النَّارِ وَمِنْ تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ

وی به دوی ته د پاسه د دوی طبقات له اوره او د لاندی د دوی طبقات (د اور)،

**تفسیر:** یعنی له هر طرفه به ئی اور محیطوی لکه چی وریځ یا بخار له کوم شی څخه راتاویږی.

ذٰلِكَ يُخَوِّفُ اللّٰهُ بِهٖ عِبَادَهٗ ۚ يٰعِبَادِ فَاتَّقُوْنِ ﴿١٦﴾

دغه (مذکور عذاب) ویروی الله په هغه سره بندگان (مؤمنان خپل)، ای بندگانو زما پس وویریږئ له ما (په اجتناب د معاصیو).

**تفسیر:** یعنی ای بندگانو زما! وپوهیږئ چی دغه شی د ویریدلو وړ (لائق) او قابل دی که نه ؟ که د ویریدلو وړ (لائق) او قابل وی نو د الله تعالیٰ له غضب او قهر څخه تل ښائی چی وویریږو.

وَالَّذِيْنَ اجْتَنَبُوا الطَّاغُوْتَ اَنْ يَّعْبُدُوْهَا وَاَنَابُوْٓا اِلَى اللّٰهِ لَهُمُ الْبُشْرٰى ۚ

او هغه کسان چی ځان ئی ساتلی دی له بتانو داسی چی عبادت وکړی د هغو او رجوع ئی کړی وی طرف د الله ته شته دوی ته بشارت زیری

**تفسیر:** یعنی هغو کسانو چی د شیطانانو خبرو ته ئی له سره غوږ نه دی ایښی او له گردو (تولو) شرکاوو څخنی ئی مخ اړولی دی او خاص الله تعالیٰ ته ئی خپل مخ گرځولی دی د هغوی دپاره ډیر لوی بشارت او زیری دی.

فَبَشِّرْ عِبَادِ ﴿١٧﴾ الَّذِيْنَ يَسْتَمِعُوْنَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُوْنَ اَحْسَنَهٗ ۚ

پس زیری وکړه (ای محمده!) پر بندگانو زما هغو چی اوری خبره (د قرآن) پس متابعت کوی دوی ډیر ښه د هغه،

**تفسیر:** یعنی گردی (تولی) خبری اوری بیا د هغو له منځه پر همغه خبره عمل کوی چی ډیره

ښه وی. یا ئی دا مطلب چی د الله تعالیٰ خبری اوری او پر هغو هدایاتو ئی چی له اعلاوو ځنی اعلا وی عمل کوی مثلاً که یوه خبره د رخصت او اباحت په نسبت واوری، او بله د عزیمت نو د عزیمت په لوری منډی وهی او ځان هم هغه لوری ته رسوی او خامخا د ترخیصاتو تتبع نه کوی. یا ئی داسی ترجمه وکړئ چی د الله تعالیٰ کلام آوری او د هغه د ډیرو ښو خبرو اتباع کوی. ځکه چی د ده ګردی (تولی) خبری احسن فیالاحسن دی **كذا قال المفسرون** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه د دی مطلب په یو بل ډول (طریقه) سره بیان فرمایلی دی «درومیځ د هغه پر نیک باندی یعنی د هغه پر نیکو احکامو درومیځ چی پری تعمیل وکړئ او پر منع باندی غوږ ږدئ چی نه ور نژدی کیږئ چی د هغه کول ښه کار دی او د دغه نه کول ښه کار دی».

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ هَدٰىهُمُ اللّٰهُ وَاُولٰٓئِكَ هُمْ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿۱۸﴾

دا هغه کسان دی چی سمه لاره ښوولی ده دوی ته الله او دغه کسان هم دوی دی خاوندان د خالصو عقلونو.

**تفسیر:** یعنی د بری او کامیابی لاره هم دوی موندلی ده ځکه چی هغوی له خپل عقل او پوه څخه کار اخیستی دی او د خالص توحید او د انابت الی الله لاره ئی غوره کړی ده.

اَفَمَنْ حَقَّ عَلَيْهِ كَلِمَةُ الْعَذَابِ ؕ اَفَاَنْتَ تُنْقِذُ مَنْ فِى النَّارِ ﴿۱۹﴾

آیا هغه څوک چی واجب شوی وی په ده حکم د عذاب آیا پس خلاصوولی شی ته هغه څوک چی په اور کښی وی (بلکه نه ئی شی خلاصولی).

**تفسیر:** یعنی پر هغو باندی چی د دوی د ضد او عناد او بدو اعمالو له سببه د عذاب حکم ثابت او مسلم شوی دی کوم یو سړی ئی له اوره د باندی ایستلی شی ؟ او سمه لاره ورښوولی شی ؟. ښه نو دغسی کمبختان چی د خپل ازلی شقاوت له سببه په اور کښی لویدلی دی څرنګه د نجات وړ (لائق) کیدی شی او څوک ئی له اوره ایستلی شی او په سمه صافه لاره ئی بیولی شی ؟.

لٰكِنِ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ غُرَفٌ مِّنْ فَوْقِهَا غُرَفٌ مَّبْنِيَّةٌ

لیکن هغه کسان چی ویریږی له رب خپله شته دوی ته مانۍ (په جنت کښی) چی له پاسه د هغی نوری مانۍ بنا کړی شوی دی.

**تفسیر:** دغه د جنت د درجاتو په طرف اشاره ده او دا چې هغه ګرد (تول) آماده او تیار دي نه داسې چې د قیامت په ورځ به تیاریږي.

تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۭ وَعْدَ اللّٰهِ ۭ لَا يُخْلِفُ اللّٰهُ الْمِيْعَادَ ⑳ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَاۗءِ مَاۗءً فَسَلَكَهٗ يَنَابِيْعَ فِي الْاَرْضِ

چې بهیږي لاندې د ماڼیو (او ونو د هغې ځلور قسمه) ویالې (وعده کړې ده) وعده کول د الله، نه کوي مخالفت الله له وعدې خپلې. آیا نه وینې ته بیشکه الله نازلې کړې دي له (طرفه) د آسمانه اوبه پس ننه ایستلې ئې دي دا (اوبه) په چینو په ځمکه کښې.

**تفسیر:** یعنې د وریا او باران اوبه د غرونو او د ځمکو په مساماتو کښې جذب او بیا د چینو په حیث له ځمکې څخه راخوتیږي. باقي که د چینو د حدوث بل څه اسباب هم وي نو د هغه نفي په دغه آیت کښې نشته.

ثُمَّ يُخْرِجُ بِهٖ زَرْعًا مُّخْتَلِفًا اَلْوَانُهٗ

بیا راوباسي په دغو (اوبو) سره کښت (فصل) حال دا چې مختلف وي رنګونه د هغه

**تفسیر:** یعنې شین، زیړ، سپین سور او داسې نور یا د مختلفو اقسامو کښتونه (فصلونه) راوباسي مثلاً غنم، جوار، شولې وغیر ذلک.

ثُمَّ يَهِيْجُ فَتَرٰىهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَجْعَلُهٗ حُطَامًا ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَذِكْرٰى لِاُولِي الْاَلْبَابِ ㉑ ع

بیا وچ شي پس وینې ته هغه شین رنګې تک زیړ پس ګرځوي دغه کښت (فصل) رژیدلې مات شوي بیشکه په دغو (اوبو او وښو) کښې خامخا ډیر لوی پند دی خاوندانو د خالصو عقلونو ته.

**تفسیر:** یعنی عقلمن سړی د کښت (فصل) حال ته ګوری او تری نصیحت حاصلوی، څرنګه چی د هغه رونق او ښینوالی د څو ورځو له مخی وی او بیا وچ کلک او مات او بوس بوس کول شی د دنیا د دغه عیش او نشاط او باغ او بهار حال هم داسی دی. ښائی چی انسان د دغی دنیا پر عارضی بهار مغرور او مفتون او د آخرت له انجام څخه غافل او بی پروا نشی همغسی چی کښت (فصل) له مختلفو اجزاوو څخه مرکب دی مثلاً په هغه کښی دانه شته چی د انسانانو غذا تری حاصلیږی او واښه هم شته چی د حیواناتو خوراک او نواله تری جوړیږی او د ده له هر جزء څخه منتفع کیدل بی له دی نه امکان نه لری څو د نورو اجزاوو څخه بیل او جلا (جدا) نه کړی شی او پخپل ځای ئی ونه شی رسولی دنیا هم داسی وګڼئ چی په هغه کښی نیکی، بدی، راحت، تکلیف او نور ګرد (تول) سره ګډوډ او مخلوط دی. یو داسی وخت راتلونکی دی چی دغه کښت (فصل) به وریبل شی او ښه میده او بوس بوس به کیږی بیا به له هغه څخه هر یو جزء د هغه مناسب ځای ته ورسول شی. نیکی او راحت به خپل مرکز او مستقر ته رسول کیږی او بدی او تکلیف خپلی خزانی ته رسیږی. الغرض د کښتونو (فصلونو) د مختلفو احوالو له لیدلو څخنی عقلمن ډیر مفید سبق حاصلولی شی د آیت په مضمون کښی دغه طرف ته هم اشاره کړی شوی ده هغه الله چی په آسمانی باران سره ئی په ځمکه کښی چینی، ویالی او سیندونه بهولی دی هم هغه الله د جنت په محلاتو کښی هم په نهایت ښه انتظام او ترتیب سره د انهارو سلسله جاری کوی.

---

أَفَمَن شَرَحَ اللَّهُ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ فَهُوَ عَلَىٰ نُورٍ مِّن رَّبِّهِ ۚ فَوَيْلٌ لِّلْقَاسِيَةِ قُلُوبُهُم مِّن ذِكْرِ اللَّهِ ۚ أُولَٰئِكَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٢٢﴾

---

آیا پس هر هغه څوک چی پرانستلی او ارته کړی وی الله سینه د ده (قبول د) اسلام ته پس وی به دی په رڼا (رڼړا) (د هدایت) له (طرفه) د رب خپل پس افسوس هلاک خرابی ده هغو کسانو ته چی سخت وی زړونه د دوی له ذکره د الله، دغه کسان په ګمراهی ښکاره کښی دی.

---

**تفسیر:** یعنی دواړه سره کله برابر کیدی شی. یو هغه چی الله تعالیٰ د هغه سینه او تتر د اسلام د قبول دپاره پرانستلی ده. دی نه د اسلام په حقانیت کښی څه شک او شبهه لری او نه د اسلامی احکامو له تسلیم څخه خپل څه انقباض ښکار کوی. الله تعالیٰ ده ته د توفیق او بصیرت یوه عجیبه رڼا (رڼړا) او انوار ورعطاء کړی دی چی د هغو په رڼا (رڼړا) کښی په نهایت سکون او اطمینان سره د الله تعالیٰ پر لاره په منډو ځغلی. بل هغه بدبخت دی چی د ده زړه د تیږی

(ګټی) په شان سخت دی. هیڅ یو نصیحت پری اثر نه کوی او نه د خیر کوم څاڅکی پکښی نڼوتلی شی. هیڅکله د الله تعالیٰ د یادولو توفیق نه مومی او هم داسی خوشی چټی (بیکاره) د اوهامو او اهواوو او رسومو او د آباوو د تقلید په تیارو کښی حیران او سرګردان ګرځی.

اَللّٰهُ نَزَّلَ اَحۡسَنَ الۡحَدِيۡثِ كِتٰبًا

الله تونه تونه نازل کړی دی ډیر ښائسته خوږ کلام کتاب

**تفسیر:** یعنی په دنیا کښی هیڅ یوه خبره د دی کتاب له خبرو څخه ښه او بهتره نه ده.

مُّتَشَابِهًا مَّثَانِىَ

(او دغه پاک کتاب ډیر ښائیسته خوږ کلام) مشابه یو له بل سره مکرر غبرګ (دی)

**تفسیر:** یعنی داسی صحیح، صادق، مضبوط، نافع، معقول فصیح او بلیغ دی چی په هیڅ یوه آیت کښی ئی هیڅ صوری او معنوی نقص نه لیده کیږی او هیڅ یو آیت ئی له بل آیت څخه کم نه دی. یو له بل سره موافق مطابق او مشابه دی. په مضامینو کښی ئی هیڅ یو اختلاف او تعارض نشته. بلکه د اکثریهوو آیتونو مضامین داسی متشابه سره واقع شوی دی چی د یوه آیت د راجع کولو څخه بل آیت ته د هغه صحیح معنی او تفسیر معلومیږی. «**القرآن یفسر بعضه بعضا**» او د «مثانی» یعنی غبرګ مکرر مطلب دا دی چی ډیر احکام، مواعظ قصص او نور په مختلفو عناوینو او اسلوبو سره اړولی شوی دی څو په ښه ډول (طریقه) سره په یاد او په زړه کښی ځای ونیسی. په تلاوت کښی هم څو څو ځلی آیتونو مکرریږی او ځینو علماوو د «متشابه» او د «مثانی» څخه داسی مطلب اخیستی دی چی په ځینو آیتونو کښی د یوه قسم مضمون سلسله تر لری ځای پوری اوږدیږی او هغه متشابه دی. او په ځینو ځایونو کښی د یوه نوعیت مضمون سره په بله جمله کښی د هغه د مقابل نوعیت مضمون بیان کوه شی مثلاً ﴿اِنَّ الۡاَبۡرَارَ لَفِىۡ نَعِيۡمٍ وَّاِنَّ الۡفُجَّارَ لَفِىۡ جَحِيۡمٍ﴾ یا ﴿نَبِّئۡ عِبَادِىۡۤ اَنِّىۡۤ اَنَا الۡغَفُوۡرُ الرَّحِيۡمُ وَاَنَّ عَذَابِىۡ هُوَ الۡعَذَابُ الۡاَلِيۡمُ﴾ یا ﴿وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفۡسَهٗ وَاللّٰهُ رَءُوۡفٌۢ بِالۡعِبَادِ﴾ دغسی آیتونو «مثانی» ویل کیږی چی په دغو کښی دوه مختلف قسمونه مضامین بیان شوی دی.

تَقۡشَعِرُّ مِنۡهُ جُلُوۡدُ الَّذِيۡنَ يَخۡشَوۡنَ رَبَّهُمۡ ۚ

ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ

چې لړځیږي رپیږي ځیګ کیږي له ده پوستکي د هغو کسانو چې ویریږي له رب خپل بیا پاسته شي (آرام نیسي) پوستکي د دوی او زړونه د دوی طرف د یادولو د الله ته

**تفسیر:** یعني د کتاب الله له آوریدلو څخه د الله تعالیٰ خوف او د ده د کلام له عظمته د ده زړه مرتعش او لړځیږي او ویښتان ئې شک‌پک (نیغ) دریږي او پوستکي ئې پاسته کیږي. مطلب دا چې د خوف او رعب کیفیت پر دوی طاري کیږي او د دوی، قلب او قالب، ظاهر او باطن د الله تعالیٰ له یاده متمایل او راتیتیږي او د الله تعالیٰ یاد د دوی پر روح او بدن پر دواړو یو خاص اثر پیدا کوي. دغه د کاملینو اقویاوو حال شو. که کله پر ضعفاوو او ناقصینو بل کوم قسم کیفیات او احوال طاري شي مثلاً غشي یا صعقه او نور نو د هغه نفي له دغه آیت څخه نه کیږي او نه د هغه تفصیل پر هغوی لازمیږي بلکه داسي له خپل ځانه تلل او له سده (هوشه) او واکه (اختیاره) وتل عموماً د وارد د قوت او د مورود د ضعف دلیل دی. په جامع ترمذي کښي یو حدیث دی چې پر ابوهریره رضی الله تعالیٰ عنه د یوه حدیث د بیانولو په وخت کښي د ځینو داسي قسم احوال طاري کیدل مصرح دي. والله اعلم بالصواب.

ذَٰلِكَ هُدَى اللَّهِ يَهْدِي بِهِ مَنْ يَشَاءُ ۚ وَمَنْ يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ ﴿٢٣﴾

دغه (قرآن) هدایت دی د الله سمه لاره ښیي په دغه (قرآن) سره هر هغه چاته چې اراده وفرمائي، او هر څوک چې وئې ښویوی الله پس پیدا به نشي هغه ته هیڅوک لاره ښوونکي.

**تفسیر:** یعني د هر چا دپاره چې د الله تعالیٰ حکمت مقتضي وی داسي د بري او کامیابي لاري ورخلاصوي او په دغه شان سره د مقصود د منزل پر طرف درومي. او هر هغه چاته چې الله تعالیٰ د ده د سوء استعداد له وجې د هدایت توفیق ور نه‌کړي نو بل څوک به له هغه سره څه مرستي (مدد) وکړي او څرنګه به ئې لاس ونیسي ؟

أَفَمَن يَتَّقِى بِوَجْهِهِۦ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ وَقِيلَ لِلظَّٰلِمِينَ ذُوقُوا۟ مَا كُنتُمْ تَكْسِبُونَ ﴿٢٤﴾

آیا پس هغه څوک چې ځان ساتي په مخ خپل سره له سختئ د عذاب د ورځې د قیامت (په شان د هغه مامون دی ؟ بلکه نه دی) او وبه ویلی شي ظالمانو ته چې وڅکئ (خوند) د هغه عمل چې وئ تاسې چې کوه به مو (په دنیا کښې چې د انبیاوو تکذیب وو).

**تفسیر:** د انسانانو قاعده ده کله چې د مخامخ له لورې پرې څوک حمله او یرغل راوړی نو په لاسونو سره د هغه مخه نیسي لیکن په محشر کښې به د ظالمانو لاسونه بند وي څو د عذاب څپیړې برابرې د دوی پر مخ ولګیږي نو آیا داسې یو انسان چې د داسې خورا (ډیر) سخت ګزار مخه پخپل مخ سره ونیسي او ورته وویل شي چې اوس د هغو کارونو مزه وڅکه چې په دنیا کښې دې کړې وو د هغه مؤمن په شان کیدی شي چې هغه ته به په آخرت کښې د هیڅ یو قسم تکلیف او زحمت رسیدلو فکر او اندیښنه نه وي او د الله تعالیٰ په فضل او مرحمت سره به بیخي مطمئنه او بیفکره اوسیږي ؟ له سره یو نه دی!

كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَأَتَىٰهُمُ ٱلْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٥﴾ فَأَذَاقَهُمُ ٱللَّهُ ٱلْخِزْىَ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَلَعَذَابُ ٱلْءَاخِرَةِ أَكْبَرُ ۚ لَوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ ﴿٢٦﴾

(هم داسې) دروغجن شمیرلي وو (خپل انبیاء) هغو کسانو چې پخوا له دوی نه وو پس رابه غي دوی ته عذاب له داسې طرفه چې نه به پوهیدل. پس وبه څکوله په دوی الله خواري او رسوائي په دغه ژوندون لږ خسیس کښې او خامخا عذاب د آخرت ډیر لوی دی که چرې وي دوی په دې عالمان (نو ایمان به ئې راوړی وو).

**تفسیر:** یعنې ډیر اقوام د انبیاوو د تکذیب په سبب هلاک او رسواء کړی شوي دي او د آخرت اشد عذاب لا د هغوی دپاره همغسې امرک او پوره پاتې دی. نو آیا دغه موجوده مکذبین داده او

مطمئن دی چی له هغوی سره به دغسی معامله نه کیږی. هو! که دوی د پوه او فکر او غور خاوندان وی نو په دغه مورد کښی به ئی فکر او غور کوو.

وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا الْقُرْآنِ مِن كُلِّ مَثَلٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٧﴾ قُرْآنًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِي عِوَجٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿٢٨﴾

او خامخا په تحقیق بیان کړی دی مونږ خلقو ته په دغه قرآن کښی له هر مثله (چی په دینیه وو امورو کښی پکاریږی) دپاره د دی چی دوی (پری) پند واخلی. په دی حال کښی چی دا قرآن دی لوستلی شوی په عربی ژبی سره چی نه دی خاوند د کوږوالی دپاره د دی چی دوی وساتلی شی (له معاصیو او له کفره).

**تفسیر:** دغه د دوی نه پوهیدل د دوی له غفلته او حماقته دی. د قرآن په پوهولو کښی هیڅ قصور او لندون نه دی. پاک قرآن خو هره یوه خبره په مثالونو او دلیلونو سره پوهوی، څو خلق په هغه کښی غور او دقت وکړی، او په هغه سره خپل عاقبت اصلاح کړی، قرآن په یوه صافه عربی ژبه رالیږلی شوی کتاب دی چی د ده د ړومبنیو مخاطبینو مورنی ژبه ده. په دغه قرآن کښی هیڅ یوه کږه او ناموافقه خبره نشته او ډیری ښی صافی سمی خبری په کښی شته چی سلیم عقل ئی په ډیر ښه شان سره قبلوی هیڅ قسم اختلال او کوږوالی د ده په مضامینو او عباراتو کښی نشته. د هغو خبرو د اجراء او تعمیل احکام ئی صادر کړی دی چی د هغه تعمیل سخت او مشکل نه دی او د هغو عقائدو اذعان او ایقان چی غوښتلی شوی دومره صعب او محال نه دی غرض تری دا دی چی خلق په سهولت سره تری مستفید شی او د اعتقادی او عملی اغلاطو څخه محفوظ پاتی وی او صاف صاف نصایح واوری او له الله تعالیٰ څخه تل وویریږی.

ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا رَّجُلًا فِيهِ شُرَكَاءُ مُتَشَاكِسُونَ وَرَجُلًا سَلَمًا لِّرَجُلٍ هَلْ يَسْتَوِيَانِ مَثَلًا ۚ

تری (بیانوی) الله یو مثل چی یو سړی وی (مربی) چی وی په ده کښی (ډیر) شریکان ټول بدخویه سره ناسازه او یو بل سړی وی (هغه هم مربی خو) سلامت ټول د یوه سړی وی، آیا برابر دی سره دغه دواړه مثلونه (د

مریو بلکه ؟ نه دی سره برابر هم داسی دی حال د کافر او د مؤمن)،

**تفسیر:** یعنی که څو تنه حصه لرونکی په یوه مریی یا نوکر کښی شریک وی او له دغو څخه هر یو حصه لرونکی بد خلقه بیمروته سخت مزاجه، ضدی او عنادی واقع شوی وی او له دوی څخنی هر یو هم دغه غواړی چی هغه مریی یا نوکر یواځی د هم ده خدمت او کار وکړی او نور شرکاء ورسره څه اړه (تعلق) او علاقه ونه لری نو ښکاره خبره ده چی په دغه فکر کښی دغه خدمتګار سخت وارخطاء او پریشان کیږی په خلاف د دی هغه مریی او نوکر چی یواځی یوه سره وی نو هغه ته به یو شان یو جانبه طمانیت حاصل وی او د څو تنو باداړانو د خوښ ساتلو فکر او د دی خوا او هغی خوا څغلولو اندیښنه به ورسره نه وی. اوس ښکاره خبره ده چی دغه دواړه مریان بیخی نشی سره برابریدلی هم داسی وګڼئ مشرک او موحد د مشرک زړه به څو جانبه ویشلی شوی وی او د څو تنو باطله معبودانو د خوښ ساتلو په فکر کښی مشغول وی پر خلاف د دی موحد خپل ګرد (ټول) توجهات، خیالات، ارتباطات او تعلقات د واحد الله په طرف مصروفوی او د ده مرجع او مرکز د تل دپاره د همغه پاک الله دربار دی. موحد به پوره اطمینان او ټول زړه سره د الله تعالیٰ د رضاء او خوښی په فکر کښی مشغولیږی او پوهیږی چی وروسته د پاک الله له خوښی څخه د بل چا خوښی او خوشالی ته چندانی اړ (محتاج) نه یم. اکثرو مفسرینو د دی مثال تقریر هم داسی کړی دی مګر حضرت شاه صاحب لیکی «یو مریی چی د څو تنو وی نو هیڅوک به هغه خپل نه ګڼی نو هیڅوک به ئی له حاله په پوره ډول (طریقه) سره نه وی باخبره او هغه مریی چی صرف د یوه سړی وی نو بادار (مالک) ئی هم هغه خپل مریی ګڼی او په پوره ډول (طریقه) سره د ده له احواله ځان خبروی هم دغه مثال دی د هغو کسانو چی د یوه رب بندګی کوی او د هغو چی د څو باطلو خدایانو بندګان وی.

ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢٩﴾

ټوله ثناء صفت خاص الله ته دی، بلکه زیاتره د خلقو نه پوهیږی (په نفع او ضرر خپل).

**تفسیر:** یعنی ګرد (ټول) محاسن او محامد هغه پاک الله ته دی چی په داسی اعلیٰ مطالبو او حقایقو سره مو په داسی صاف او په زړه پوری مثالونو او شواهدو پوهوی مګر سره له دی ډیر داسی بدنصیبه کسان دی چی د دغو واضحه ؤ مثله ؤ په پوهیدلو توفیق نه مومی.

إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ عِندَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُونَ ﴿٣١﴾

بیشکه چی ته هم مړ کیدونکی ئی او بیشکه دوی هم مړ کیدونکی دی (او هیڅوک بی له الله پاتی کیدونکی نه دی) بیا بیشکه تاسی به ورځ د قیامت کښې په نزد د رب خپل جګړه به کوئ (په دینیه ؤ امورو کښې).

**تفسیر:** یعنی د دغه اختلاف اثر چی د مشرک او موحد په منځ کښې دی د قیامت په ورځ کښې علیٰ رؤس الاشهاد ظاهریږی څه مهال (وخت) چی نبیان به سره له خپلو امتیانو یو ځای کړل شی، او کافران به د انبیاؤ او مؤمنینو په مقابل کښې جګړی او مناقشی وکړی او حجتونه او دلائل به را وړاندی کړی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «کفار به منکریږی چی له سره مونږ ته ستا حکم نه دی را رسیدلی بیا د دوی د دغه انکار په مقابل کښې د پرښتو او د ځمکی او آسمان او د دوی د لاسونو او پښو او نورو اعضاؤ په شهادت به پری ثابتیږی » چی دوی پخپلو دغو ادعاؤ کښې دروغجنان دی هم داسی د نورو ګردو (ټولو) جګړو فیصلی به هم په هغه ورځ کښې د پاک الله په حضور کښې صادریږی. بهتر هم دا دی چی د «اختصام» لفظ عام کیښود شی څو د احادیثو او آثارو څخه مخالف نشی.

فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ كَذَبَ عَلَى اللَّهِ وَكَذَّبَ بِالصِّدْقِ إِذْ جَاءَهُ ۚ أَلَيْسَ فِي جَهَنَّمَ مَثْوًى لِلْكَافِرِينَ ﴿٣٢﴾

پس څوک دی ډیر ظالم؟ (بلکه نشته) له هغه چا چې دروغ تړي پر الله (په لرلو د شریک څوی، ښځې) او دروغ شمیري رښتیا خبره (قرآن) کله چه راشي (دغه قرآن) دغه (مکذب) ته، آیا نشته په دوزخ کښې ځای دپاره د کافرانو ؟ (بلکه شته).

**تفسیر:** پر الله باندې ئې دروغ وویل یعنې شریک ئې ورته ودراوه یا ئې اولاد ور تجویز کړ، یا ئې داسې صفات ورمنسوب کړل چه په واقع کښې د ده د ذات او صفاتو سره وړ (مستحق) او لائق نه وې او رښتیا خبره کله چه ورته ورسیده دروغ ئې وشمیرله، یعنې هغه رښتیا خبرې چه انبیاؤ علیهم السلام د الله تعالیٰ له طرفه راوړلې هغوی ته ئې د دروغو نسبت وکړ او هیڅ ئې پکښې خپل فکر او غور ونه چلاوه. بلا شبهه هغه څوک چې له حق او حقانیت سره دومره عداوت او دښمنی لرې له هغه څخنې ډیر لوی ظالم بل څوک کیدی شي، او د داسې ظالمانو د ورتلو او هستوګنې ځای ما سوا له دوزخه بل به چیرې وي؟ عموماً مفسرینو د دې آیت تفسیر داسې کړی دی لیکن حضرت شاه صاحب لیکي «یعنې که نبي (معاذالله) په دروغو سره د الله تعالیٰ نوم واخیستی نو له دې نه ډیر خراب بل څوک کیدی شي؟، او که نبي رښتین وي او تاسې ئې دروغجن کوئ نو له تاسې څخه به لوی دروغجن بل څوک وي ګواکې د ﴿ مِمَّنْ كَذَبَ عَلَى اللَّهِ ﴾ او د ﴿ وَكَذَّبَ بِالصِّدْقِ ﴾ مصداق ئې سره جلا جلا (جدا جدا) مقرر کړ، او هم داسې وروسته له دې نه په ﴿ وَالَّذِي جَاءَ بِالصِّدْقِ ﴾ الآية - کښې راځي.

وَالَّذِي جَاءَ بِالصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهِ ۙ أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ ﴿٣٣﴾

او هغه (محمد) چې راغی په (خبرې) رښتیا سره او هغه (مؤمنان) چه رښتیا ئې وشمیرله دا (خبره) دغه کسان هم دوی دي پرهیزګاران (له معاصیو او له شرکه).

**تفسیر:** یعنې د الله تعالیٰ د ویریدونکیو شان داسې وي چه تل رښتیا ووائی او د رښتیا تصدیق وکړي. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکي «هر هغه چې رښتیا خبرې ئې له خپل ځان سره راوړې دي هغوی انبیا او هغه کسان چه په رښتیا سره ئې مني مؤمنان دي» ګواکې د دواړو

جملو مصداق سره جلا (جدا) دی.

لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ ذٰلِكَ جَزٰٓؤُا الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۳۴﴾ لِيُكَفِّرَ اللّٰهُ عَنْهُمْ اَسْوَاَ الَّذِيْ عَمِلُوْا وَيَجْزِيَهُمْ اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ الَّذِيْ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۳۵﴾

شته دوی ته (په جنت کښې) هر هغه (نعمت) چې غواړی ئې په نزد د رب د دوی، دغه (مذکور کرامت) جزا ده د محسنانو نیکو کارانو دپاره د دی چه ورژوی (تونی کړی) الله له دوی نه بدتر د هغو گناهونو چې کړی ئې وی او چې جزا ورکړی (الله) دوی ته اجر د دوی په سبب د هغه ډیر ښه عمل چې ؤ دوی چې کوو به ئې (په دنیا کښې)

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ متقینو او محسنینو ته د دوی د ډیرو ښو کارونو اجر او بدل ورکوی که په غلطه کوم بد عمل تری صادر شوی وی هغه وربښی.

**تنبیه:** ښائی چه د «اسوأ» او د «احسن» د تفضیل صیغی ئی ځکه اختیار فرمایلی وی چه د لویو ذواتو او مقربینو ادنیٰ نیکی او حسنات د نورو له نیکیو او حسناتو او ادنیٰ بدی او سیئه ئی د نورو له سیئاتو څخه لوی او درانه گڼل کیږی. والله اعلم.

اَلَيْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ عَبْدَهٗ ؕ وَيُخَوِّفُوْنَكَ بِالَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖ ؕ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ﴿۳۶﴾ وَمَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ مُّضِلٍّ ؕ اَلَيْسَ اللّٰهُ بِعَزِيْزٍ ذِي انْتِقَامٍ ﴿۳۷﴾

آیا نه دی الله کافی بس کیدونکی د بنده خپل (بلکه کافی دی) او ویروی (کفار ای محمده!) تا په هغو بتانو (چې عبادت ئې کوی کفار) بې له الله، او هر څوک چې گمراه ئې کړی الله پس پیدا به نشی دی (گمراه) ته هیڅوک سمه لاره ښوونکی او هر چا ته چې سمه لاره وښیی الله پس نشته ده ته هیڅوک گمراه کوونکی، آیا نه دی الله ډیر زبردست غالب قوی څښتن

(خاوند) د بدل اخیستلو؟ (بلکه دی).

**تفسیر:** څو آیتونه پخوا په ﴿ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَّجُلًا فِيْهِ شُرَكَآءُ ﴾ الآية ـ کښې د شرک رد او د مشرکینو د جهل بیان کړی شوی وو نو د هغه په نسبت به مشرکینو زمونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم له بتانو څخه ویراوه، او ویل به ئی «وګورئ تاسی زمونږ د معبودانو تحقیر او توهین مه کوئ! او دوی پر خپل ځان مه خپه او مه قهرجنوئ! نه چی دوی (معاذالله) له تا څخه بالکل روغ لیونی او تیار پاګل جوړ کړی» نو دلته د هغه جواب ورکوی «هر هغه چی د لوی زبردست الله بندګی ځانته غوره کړی وی نو دی به کله له دغو عاجزانو او ناتوانانو باطلو معبودانو څخه ویریږی آیا د هغه عزیز منتقم الله تعالیٰ امداد او اعانت ده لره بس او کافی نه دی چه له بل چا څخه وویریږی یا ورته څه هیله (امید)، طمعه، توقع او امید ولری؟ دغه هم د دغو مشرکینو خبط، ضلال او مستقله ګمراهی ده چه د واحد الله بندګان له هسی چتی (بیکاره) او فضولو شیانو څخه ویروی. رښتیا خبره خو هم دا ده چی پر سمه صافه لاره روانول او نه روانول دغه ګرد (تول) د پاک الله په واک، قبضه او اختیار کښی دی کله چه کوم یوه ته الله تعالیٰ د ده د بدتمیزی او کږو تللو په بنا د بری او کامیابی سمه صافه لاره ونه ښیی نو هغه هم داسی لیونی او پاګل کیږی او دغسی د غتو غتو خبرو د پوهیدلو قوت او قدرت هم تری ورک کیږی آیا دغه احمقان دومره هم نه پوهیږی هغه بنده چی د قدوس الله په حمایت او پناه کښی ننوتلی وی نو کوم یو قدرت او طاقت د هغه یوه ویښته ته هم څه ضرر رسولی شی؟ هر یو طاقت چی دغسی یوه کار ته اقدام او څغرد (ضد) وکړی تکړی تکړی به کړ شی ځکه چه د الله تعالیٰ غیرت هرومرو (خامخا) د خپلو مخلصو بندګانو انتقام (کسات) آخلی».

وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ؕ قُلْ اَفَرَءَيْتُمْ مَّا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ اَرَادَنِيَ اللّٰهُ بِضُرٍّ هَلْ هُنَّ كٰشِفٰتُ ضُرِّهٖۤ اَوْ اَرَادَنِيْ بِرَحْمَةٍ هَلْ هُنَّ مُمْسِكٰتُ رَحْمَتِهٖ ؕ قُلْ حَسْبِيَ اللّٰهُ ؕ عَلَيْهِ يَتَوَكَّلُ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ﴿٣٨﴾

او خامخا که وپوښتی ته (ای محمده!) له دغو (مشرکانو) چی چا پیدا کړی دی دا آسمانونه او ځمکی نو خامخا وبه وائی هرومرو (خامخا) چی الله (پیدا کړی دی) ووایه (ای محمده! دوی ته) آیا پس وینئ تاسی هغه بتان چه بولئ (عبادت ئی) کوئ تاسی بی له الله که چیری اراده وفرمائی له ماسره الله

د ضرر رسولو آیا دی دا بتان لری کوونکی د ضرر د هغه (له مانه؟ بلکه نه دی!) یا که اراده وفرمائی (الله) له ماسره د رحمت (د نفعی رسولو) آیا دی دغه (بتان) منع کوونکی د رحمت د الله (له مانه؟ بلکه نه دی!) ووایه (ای محمده!) دوی ته بس دی زما الله، خاص په هم دغه الله توکل کوی توکل کوونکی (په هر حال او هر کار کښی او خپل ټول امور هم هغه ته ورسپاری).

**تفسیر:** یعنی یو طرف خو قدوس الله چی پخپله ستاسی د اقرار سره موافق د ټولو آسمانونو او ځمکی خالق او مالک دی او بل طرف دغه د تیږو (ګټو) بیځانه او بی‌سا بتان یا عاجز مخلوقات چی که هغوی ګرد (ټول) سره یو ځای هم شی د الله تعالیٰ د رالیږلی شوی یو ادنیٰ زحمت یا راحت مخه نشی نیولی او نه ئی نوعیت بدلولی شی. نو تاسی پخپله دغه خبره راوښیئ چه له دغو دواړو څخه کوم یو د اطمینان او اعتماد وړ (مستحق) او لایق کیدی شی؟ او کوم یو د خپل مدد دپاره کافی او بس وګڼلی شئ؟ د حضرت هود علیه السلام قوم هم ویلی ؤ ﴿اِنۡ نَّقُوۡلُ اِلَّا اعۡتَرٰىكَ بَعۡضُ اٰلِهَتِنَا بِسُوۡٓءٍ﴾ چی د هغه جواب حضرت هود علیه السلام داسی ورکړی ؤ ﴿قَالَ اِنِّىۡۤ اُشۡهِدُ اللّٰهَ وَاشۡهَدُوۡۤا اَنِّىۡ بَرِىۡٓءٌ مِّمَّا تُشۡرِكُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِهٖ فَكِيۡدُوۡنِىۡ جَمِيۡعًا ثُمَّ لَا تُنۡظِرُوۡنِ اِنِّىۡ تَوَكَّلۡتُ عَلَى اللّٰهِ رَبِّىۡ وَرَبِّكُمۡ مَا مِنۡ دَآبَّةٍ اِلَّا هُوَ اٰخِذٌۢ بِنَاصِيَتِهَا اِنَّ رَبِّىۡ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسۡتَقِيۡمٍ﴾ (د جزء ١٢ هود (٥) رکوع ٥٤، ٥٥، ٥٦ آیت) او حضرت ابراهیم علیه السلام هم خپل قوم ته داسی فرمایلی ؤ ﴿وَلَاۤ اَخَافُ مَا تُشۡرِكُوۡنَ بِهٖۤ اِلَّاۤ اَنۡ يَّشَآءَ رَبِّىۡ شَيۡـًٔا وَسِعَ رَبِّىۡ كُلَّ شَىۡءٍ عِلۡمًا اَفَلَا تَتَذَكَّرُوۡنَ وَكَيۡفَ اَخَافُ مَاۤ اَشۡرَكۡتُمۡ وَلَا تَخَافُوۡنَ اَنَّكُمۡ اَشۡرَكۡتُمۡ بِاللّٰهِ مَا لَمۡ يُنَزِّلۡ بِهٖ عَلَيۡكُمۡ سُلۡطٰنًا فَاَىُّ الۡفَرِيۡقَيۡنِ اَحَقُّ بِالۡاَمۡنِ اِنۡ كُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ﴾ (د جزء ٧ الانعام ٩ رکوع) ٨٠ - ٨١ آیت

قُلۡ يٰقَوۡمِ اعۡمَلُوۡا عَلٰى مَكَانَتِكُمۡ اِنِّىۡ عَامِلٌ فَسَوۡفَ تَعۡلَمُوۡنَ ۙ﴿٣٩﴾ مَنۡ يَّاۡتِيۡهِ عَذَابٌ يُّخۡزِيۡهِ وَيَحِلُّ عَلَيۡهِ عَذَابٌ مُّقِيۡمٌ ﴿٤٠﴾

ووایه (ای محمده!) ای قومه زما ژوند (روزګار) کوئ تاسی په ځای (او حال) خپل کښی بیشکه زه هم عمل کوونکی یم (په حال د توکل او صبر خپل) پس ژر ده چی معلوم به کړئ تاسی (زما او له تاسو نه) هر هغه چی رابشی هغه ته داسی عذاب چی وبه شرموی (او رسوا به کړی) دی او نازل به شی په ده عذاب همیشه

**تفسیر:** یعنی عنقریب دغه خبره واضحه او ښکاره کیږی (ښکاره کیږی) چه د واحد الله بندګان

غالبان کیږی که د دغو سلهاؤ دروازو فقیران ؟ واقعات به ډیر ژر دا راوښیی چه هر هغه بنده چی د الله تعالیٰ په حمایت او پنا کښی راغلی وی د هغه مقابله کوونکی بالاخر گرد (تول) سره خوار، زار او تباه کیږی.

**تنبیه:** له «عذاب یخزیه» څخه دنیوی عذاب او له «عذاب مقیم» څخه اخروی عذاب مراد دی والله اعلم.

---

إِنَّا أَنزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ لِلنَّاسِ بِالْحَقِّ ۖ فَمَنِ اهْتَدَىٰ فَلِنَفْسِهِ ۖ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۖ وَمَا أَنتَ عَلَيْهِم بِوَكِيلٍ ﴿٤١﴾

---

بیشکه موږ نازل کړی مو دی پر تا کتاب (قرآن) دپاره (د انتفاع د تولو) خلقو په حقه سره پس هر چا چی سمه لاره ئی ومونده پس نفس د ده لره ده (فائده ئی) او هر څوک چی گمراه شو پس بیشکه هم دا خبره ده چی گمراه کیږی پر ځان خپل (چی ضرر ئی گالی (برداشت کوی)) او نه ئی ته پر دوی وکیل (ساتونکی)

---

**تفسیر:** یعنی ستا په ژبه او د دغه کتاب په ذریعه د نصیحت رښتیا خبری ویلی شوی دی او د دین سمه صافه برابره لاره ښوولی شوی ده، زیات له دی نه هر انسان دی خپله گټه (فائده) او تاوان وسنجوی (معلوم وکړی) هر څوک چی پر نصیحت عمل او تګ کوی خپل ځانته فائده او گټه (فائده) رسوی که نه خپله آخره خاتمه او انجام خرابوی پر تا د دوی نور هیڅ مسؤلیت او ذمه واری نشته چی په زور او جبر سره دوی پر سمه لاره راولی ستاسی وظیفه تش د الله تعالیٰ د پیغام رسوونه ده چه دغه فریضه تاسی ادا کړی ده، وروسته له دی نه نور گرد (تول) معاملات هغه پاک الله ته وسپارئ چی د ده د قدرت په لاس کښی ژوندی کول، مړه کول، ویده کول او ویښول او نور گرد (تول) شیان دی.

---

اللَّهُ يَتَوَفَّى الْأَنفُسَ حِينَ مَوْتِهَا وَالَّتِي لَمْ تَمُتْ فِي مَنَامِهَا ۖ فَيُمْسِكُ الَّتِي قَضَىٰ عَلَيْهَا الْمَوْتَ وَيُرْسِلُ الْأُخْرَىٰ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٤٢﴾

الله راکاږی (قبضوی) نفسونه په وخت د مرګ د دوی او هغه نفس چې نه وی مړ (هغه راکاږی) په خوب د هغه کښې پس وساتی هغه (نفس) چې حکم کړی پر هغه د مرګ او بیرته رالیږی (بدن ته) هغه بل (نفس) تر نیتی په نامه کړی شوی پوری، بیشکه په دغه (قبض، امساک، ارسال) کښې خامخا ډیر دلائل د قدرت دی دپاره د هغه قوم چې فکر کوی (او عبرت تری اخلی لیکن نه کوی فکر پکښې کفار)

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب لیکی «یعنی په خوب کښې هره ورځ روح (سا) اخلی او بیا ئی بیرته ورلیږی هم دغه نښه ده د آخرت، معلوم شو چې په خوب کښې هم لکه موت سا اخیسته کیږی که خوب وځنډیږی (ایسار شی) نو هم هغه مرګ دی مګر دغه روح هغه دی چې ورته ظاهری هوش وائی او هغه روح چې په هغه سره تنفس جریان لری او نبضین خوځیږی او خواړه هضمیږی هغه بل دی چې پخوا د مرګ له وقوع څخه نه ایستل کیږی». (موضح القرآن). «بغوی» له حضرت علی کرم الله وجهه څخه نقل کوی «په خوب کښې روح له بدن څخه وځی مګر د ده مخصوص تعلق د مخصوصو اشعوؤ په ذریعه له بدن سره وی چې د دغه تعلق او ارتباط له وجی حیات له بطلانه ساتلی کیږی» لکه چې لمر له ملیونو میلو څخه لری د خپلو اشعهؤ په ذریعه ځمکه تودوی له دی نه ظاهریږی چې په خوب کښې هم همغه شی وځی چې د موت په وخت کښې وځی لیکن په خوب کښې د تعلق انقطاع هم هغسې نه وی لکه چې په موت کښې وی. والله اعلم.

أَمِ اتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ شُفَعَاءَ ۚ

آیا نیولی دی دغو (مشرکانو) غیر له الله شفاعتګران (بتان چې زاری وکړی الله ته)

**تفسیر:** یعنی مشرکین د بتانو په نسبت داسې دعوی کوی چه دوی د الله تعالیٰ په دربار کښې زمونږ سپارښت او شفاعت کوی او د هم دوی له سپارښت څخه زمونږ ګرد (تول) کارونه هلته جوړیږی نو ځکه مونږ د دوی عبادت کوو. حال دا چه اول د شفیع کیدلو دپاره معبودیت لازمی نه دی بل شفیع هم هغه څوک ګرځیدی شی چې ورته د الله تعالیٰ له طرفه د شفاعت حکم او اجازه وی او یواځې د هغو کسانو په حق کښې شفاعت په عمل راتلی شی چې دوی د الله تعالیٰ په نزد غوره او مقبول وی. لنده ئی دا چه د شفیع مازونیت او د مشفوع مرتضائیت یو ضروری امر دی او دلته دغه دواړه خبری نشته نه د اصنامو (بتانو) مأذونیت ثابت دی او نه د کفارو مرتضائیت نو د دوی دغه دعوی غلطه شوه.

قُلْ اَوَلَوْ كَانُوْا لَا يَمْلِكُوْنَ شَيْـًٔا وَّلَا يَعْقِلُوْنَ ﴿٤٣﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) آیا اگر که وی دوی په داسی حال کښې چه مالکان نه وی د هیڅ شي او نه عقل لری (دوی چې ستاسی عبادت ورته معلوم شي ځکه چې جمادات وی).

**تفسیر:** یعنی بتان نه اختیار لری او نه پوه نو بیا د دوی شفیع کیدل دیر عجیب دی.

قُلْ لِّلّٰهِ الشَّفَاعَةُ جَمِيْعًا ؕ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٤٤﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) خاص الله ته (اختیار د) شفاعت دی تول (او بل هیچا لره دخل نشته) خاص الله ته دی سلطنت د آسمانونو او د ځمکی، بیا خاص هم ده ته بیرته بیول کیږئ (لپاره د جزا)

**تفسیر:** یعنی فی الحال هم پر آسمانونو او ځمکه کښې د هم دغه الله تعالیٰ سلطنت دی او فی‌المال هم د گردو (تولو) رجوع او بیرته ورتگ هم هغه ته دی. نو بی د الله تعالیٰ له خوښی او رضا هیڅوک د دی خبری قوت او قدرت نه لری چې خپلی شوندی هم وخوځولی شی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «یعنی د الله تعالیٰ په مخکښې شفاعت شته مگر د هم هغه الله تعالیٰ په حکم نه ستاسی په خوله. کله چې مرگ راشی نو حضرت عزرائیل علیه السلام هم د چا په خوله هیڅوک نشی خوشی کولی».

وَاِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَحْدَهُ اشْمَاَزَّتْ قُلُوْبُ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ ۚ وَاِذَا ذُكِرَ الَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖۤ اِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿٤٥﴾

او په هغه وخت کښې چې یاد کړ شی الله یواځې (بی له بتانو) نو منقبض شي وترهیږی زړونه د هغو کسانو چې ایمان نه راوړی په آخرت باندی او په هغه وخت کښې چې یاد کړل شی هغه (بتان) بی له دغه (الله) ناڅاپه دوی

خوشالیږی (مخونه ئی رانه او وچولی (تندی) ئی خلاص شی له خوښی)

**تفسیر:** د مشرکانو دغه یوه خاصه ده چی په ځینو اوقاتو کښی تش پخپلو ژبو د الله تعالیٰ د عظمت او د محبت اعتراف کوی لیکن د هغوی زړونه د واحد الله له ذکره او حمده او ثنا نه خوشیږی. هو! که د نورو بتانو یا ورو کیو معبودانو تعریف ورته وکړ شی نو له ډیری خوښی او خوشحالی پخپلو جامو کښی نه ځائیږی او د مسرت آثار د دوی له څیرو څخه له ورا (لری) څرګندیږی (ښکاره کیږی). د افسوس او حسرت ځای دی چی نن ورځ علی‌الاکثر تش په نامه سره مسلمانانو هم داسی یو وضعیت ځانته غوره کړی دی مثلاً که د واحد الله قدرت، قوت، عظمت او د ده د لامحدوده علم وسعت بیان وکړ شی نو د دوی په مخونو کښی د انقباض آثار احساس کیږی مګر که د کوم پیر، فقیر، حضرت، شیخ، ملنګ صاحبزاده، خواجه، سید او د نورو متعارفه ؤ خوارقو، رښتیا، دروغ کرامات، او نوری چتی (بیکاره) او مهملی خبری دوی ته وویلی شی نو د دوی په څیرو کښی د وجد او نشاط علائم قائمیږی او په زړونو کښی ئی د سرور او انبساط امواج پیدا کیږی، بلکه ډیر اوقات د خالص توحید بیانوونکی د دوی په نزد د اولیاؤ الله منکر ګڼل کیږی «**فإلی الله المشتکی وهو المستعان**».

قُلِ اللّٰهُمَّ فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ عٰلِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ اَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيْ مَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿٤٦﴾

ووایه (ای محمده !) ای الله پیدا کوونکی د آسمانونو او د ځمکی ای عالمه خبرداره په پټو او په ښکاره‌ؤ ته حکم (فیصله) کوی (په قیامت کښی) په منځ د بندګانو خپلو کښی په هغو (دینیه ؤ امورو کښی ) چی ؤ دوی چی پکښی اختلاف به ئی کوو.

**تفسیر:** یعنی هر کله چی دوی په داسی غتو خبرو کښی هم جګړی کوی او د الله تعالیٰ دومره عزت او وقار هم د دوی په زړونو کښی نشته نو اوس زه ستا پاک دربار ته عرض او فریاد کوم ځو پخپله د دغو جګړو په منځ کښی یوه پریکړه او فیصله وفرمائی.
(اوس بیا اخبار فرمائی د سختی د عذاب د کفارو او له نه خلاصیدلو د دوی له دغه عذابه په هیڅ وجه سره نو فرمائی)

وَلَوْ اَنَّ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مَا فِي الْاَرْضِ

جَمِيعًا وَّمِثْلَهُ مَعَهُ لَافْتَدَوْا بِهِ مِنْ سُوٓءِ الْعَذَابِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ
وَبَدَا لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مَا لَمْ يَكُوْنُوْا يَحْتَسِبُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَبَدَا لَهُمْ سَيِّاٰتُ
مَا كَسَبُوْا وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٤٨﴾

---

او که چیری بیشکه مملوک شی د هغو کسانو چی ظلم ئی (پر نفسونو خپلو په کفر سره اختیار) کړی دی هغه (اموال مبالغ) چی په ځمکه کښی دی تول او په مثل (هم د هغه) نور ورسره شی نو خامخا فدیه به ورکړی دوی په هغه سره له بدرنگه عذابه په ورځ د قیامت کښی، او ښکاره به شی دوی ته له جانبه د الله هغه (عذاب) چی نه ؤ دوی چی گمان به ئی کوو (د هغه). او ښکاره به شی دوی ته (جزا د) بدی د هغو اعمالو چی کړی ئی وو دوی او چاپیره نازله به شی په دوی (جزا د) هغه څیز چی ؤ دوی چی په هغه پوری به ئی مسخری کولی (چی د الٰهی قهر او ابدی عذاب دی.)

---

**تفسیر:** یعنی د قیامت په ورځ چی د دغو اختلافاتو فیصلی اوروللی کیږی په دغه وخت کښی به د دغو ظالمانو چی په شک او شرک سره ئی د الله تعالیٰ شان تنقیص کوو ډیر بد حال وی. فرض ئی کړئ که په دغه ورځ د ځمکی د مخ گردی (تولی) خزانی بلکه له هغو څنی زائد مبالغ هم له دوی سره موجود وی او وغواړی چی دغه گرد (تول) اضعافاً مضاعفة خزائن د خپلی فدیی په ډول (طریقه) ورکړی او خپل ځان خلاص کړی مگر هغه تری نه قبلیږی او هر څه بد اعمال چی ده کړی دی یو په یو ئی په مخ راوړل کیږی او د داسی راز راز (قسم قسم) ویرونکیو عذابونو خوند به وڅکی چی هیڅکله به د هغه مثال او نظیر د ده په وهم او خیال کښی هم نه وی گرځیدلی. الغرض هغه کسان چی پر خالص توحید او حق دین پوری به ئی توکی او مسخری کولی د هغه ربړ (تکلیف) او وبال دوی هرومرو (خامخا) گالونکی (برداشت کوونکی) دی او په هغو عذابونو کښی چی دوی ورپوری مسخری کولی دوی پخپله پکښی اخته کیدونکی دی.

---

فَاِذَا مَسَّ الْاِنْسَانَ ضُرٌّ دَعَانَا ؗ

---

پس کله چی ورسیږی (جنس د) انسان ته څه قسم ضرر، نو بولی مونږ (دفع د هغه ته)

---

**تفسیر:** یعنی چه د هغه الله تعالیٰ له ذکر څخه چی اوس خپه او ناراضه کیږی د مصیبت په وخت

کښې ورغړ او ناری وهی او د ده ذکر چی د مصائبو په وخت کښې پری خوښیږی د مرفه‌الحالی په وخت کښې له دوی نه هیریږی.

ثُمَّ إِذَا خَوَّلْنَٰهُ نِعْمَةً مِّنَّا قَالَ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلْمٍ ۚ

بیا کله چی ورکړو مونږ ده ته کوم نعمت له (جانبه) خپله وائی بیشکه هم دا خبره ده چی راکړی شوی دی ماته دغه (نعمت) په سبب د پوه (زما، نه ده داسی)

**تفسیر:** یعنی قیاس خو هم دغه غوښت چی دغه نعمت زما په برخه شی ځکه چی په ما کښې د دغی خبری لیاقت وو او د هغه د ګټلو ذرائع ماته ښکاره او معلوم وو او الله تعالیٰ ته زما استعداد او اهلیت څرګند (ښکاره) وو نو بیا هغه ولی ماته ونه رسید. الغرض چی ده پر خپل لیاقت او عقل نظر وکړ او د الله تعالیٰ پر فضل او قدرت ئی نظر ونه کړ.

بَلْ هِىَ فِتْنَةٌ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٤٩﴾

بلکه دغه (اعطا د نعمت) فتنه امتحان ازموینه ده ولیکن اکثر د دوی نه پوهیږی (چی دغه تخویل استدراج، امتحان دی دوی ته).

**تفسیر:** یعنی داسی نه دی بلکه دغه نعمت د الله تعالیٰ له طرفه یو امتحان دی چی بنده د هغه پر موندلو تر کوم حد پوری د حقیقی منعم شکریه ادا کوی؟ او د احسان او انعام حق ئی پیژنی؟ که ناشکری ئی وکړله نو دغه نعمت ورته نقمت او د ده د ځان وبال ګرځی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «دغه امتحان دی چی د ده عقل او سد (هوش) تر هغه ځای پوری رسیږی خو پر خپل عقل باندی مغرور شی نو سره له هغه عقله او سده (هوشه) آفت وررسیږی» نو بیا د بل چا په اړولو او منع کولو سره هغه نه اوړی او نه تری منع کیږی.

قَدْ قَالَهَا الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَمَآ أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ﴿٥٠﴾
فَأَصَابَهُمْ سَيِّـَٔاتُ مَا كَسَبُوا۟ ۚ وَالَّذِينَ ظَلَمُوا۟ مِنْ هَٰٓؤُلَآءِ
سَيُصِيبُهُمْ سَيِّـَٔاتُ مَا كَسَبُوا۟ وَمَا هُم بِمُعْجِزِينَ ﴿٥١﴾

په تحقیق ویلی ده دغه خبره هغو کسانو (چې تیر شوی دی) پخوا له دوی نه (لکه قارون او قوم د ده) پس هیڅ قدر دفع د عذاب ونه کړه له دوی څخنی هغه (دنیوی مال او متاع) چې ؤ دوی چې کسب (د ګټې د هغو) به ئې کوو. پس ورسید له هغو (پخوانیو) ته (جزا د هغو بدو) اعمالو چې کول به دوی (په خسف سره) او هغه کسان چې ظلم ئې کړی دی (په اختیارولو د کفر) له دغه (قوم ستا ای محمده!) ژر ده چې وبه رسیږی دوی ته (جزا د بدیو د هغو اعمالو چې کړی دی دوی او نه دی دوی عاجز کوونکی (مونږ لره له تعذیب د دوی نه)

**تفسیر:** لکه چې قارون هم داسی ویلی ؤ د هغه څه حشر او آخره خاتمه وشوه د هغه ذکر پخوا له دی نه تیر شو یعنی څرنګه چې پر پخوانیو مجرمینو د خپلی ګناه سزا او وبال ولوید پر دغو موجوده ؤ مشرکینو هم د دوی د بدو اعمالو سزا او وبال لویدونکی دی. څه وخت چې پاک الله د دوی د سزا ورکولو اراده وفرمائی نو دوی له سره خپل ځانونه نشی پټولی او نه چیری تری تښتیدلی شی او نه په کوم چل او تدبیر سره دی ستری، ستومانه او عاجزولی شی.

اَوَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٥٢﴾

آیا نه پوهیږی دوی په دی چې بیشکه الله فراخوی رزق روزی هر هغه چا ته چې اراده وفرمائی او تنګوی (په اندازه کوی ئې) بیشکه په دغه (بسط او قبض) کښې خامخا ډیر دلائل (د قدرت) دی دپاره (د هغه) قوم چې ایمان راوړی (په الله چې باسط او قابض دی)

**تفسیر:** یعنی په دنیا کښې محض د روزی فراخي او تنګی د کوم سړی د مقبولیت او مردودیت دلیل نشی کیدی نه د روزی ګټل دومره په عقل، ذهانت، علم او لیاقت پوری منحصر دی.
وګورئ چې څومره بیوقوفان ناپوهان په ډیر اطمینان او هوسائی (آرام) سره ژوندون کوی او څومره عقلا، فضلا او نیکان په لوږو سره شپې او ورځې تیروی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی
«یعنی په عقل چلولو او تدبیر کولو کښې هیڅوک څه کمی نه کوی بیا د یوه روزی ارته او د بل تنګه ده نو وپوهیږی چې دغه یواځې د عقل کار نه دی چې پر خپل ځان باندی روزی ارته

کړی بلکه دغه تقسیم د حقیقی رزاق د حکمت او مصلحت تابع او د هم ده د قدرت په لاس کښی دی».

قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا ۭ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿٥٣﴾

ووایه (ای محمده ! چی فرمائی الله) ای بندګانو (مؤمنانو) زما هغو کسانو چی اسراف ئی کړی دی پر نفسونو خپلو مه نااميده کيږئ له رحمته د الله (ځکه چی) بیشکه الله مغفرت کوی ښښی ګناهونه ټول (اګر که ډیر هم وی بی له شرکه) بیشکه چی الله هم دی ښه ښښونکی (د خطیاتو) ډیر رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره)

**تفسیر:** دغه آیت د ارحم الراحمین د بی پایانه رحمت بیان او د ده د عفوی او د عظیم الشان تیریدلو اعلان کوی او د خورا ډیرو سختو مأیوس العلاجو مریضانو په حق کښی د شفاء د اکسیر حکم لری. مشرک ، ملحد، زندیق، مرتد، یهودی، نصرانی، مجوسی ، مبتدع، فاسق، فاجر، او نور عاصیان او باغیان هر څوک چی وی د دغه آیت له آوریدلو څخه وروسته د الله تعالیٰ مهربانی ته امیدوار کیږی ځکه د هر چا په نسبت چی الله تعالیٰ اراده وفرمائی د هغه ګناه معافوی او هیڅوک د ده لاس نشی نیولی بیا بنده به ولی نااميده کیږی؟ هو! دغه ضروری ده چی د الله تعالیٰ له نورو اعلاناتو سره سم چی په هغو کښی تصریح شوی ده چی د کفر او شرک جرم به بی له توبی او بی له ایمانه نه قبلوی، ښائی چه ﴿ اِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا ﴾ له «من يشاء» سره مقیده وګڼله شی خو سره له هغه د دغی خبری تقیید ئی هم فرمایلی دی. ﴿ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَاۤءُ ﴾ (د جزء ٥ نساء ١٨ رکوع ١١٦ آیت) له دغه تقیید څخه دغه نه لازمیږی چی الله تعالیٰ بی له توبی هیڅ یوه لویه یا وړوکی ګناه نشی معافولی او نه ئی داسی مطلب کیږی چه د هیڅ یو جرم دپاره له سره د توبی ضرورت نشته او بی له توبی به ګرد (ټول) ګناهونه معافیږی. قید یوائځی د مشیت دی او د مشیت په متعلق په نورو آیتونو کښی دا ښوولی شوی دی چی هغه په کفر او شرک کښی بی له توبی ممکن نه دی لکه چی د دغه آیت شان نزول هم پری دلالت کوی او د دی وروستنی آیت له افادی څخه هم معلومیږی.

وَاَنِيْبُوْٓا اِلٰى رَبِّكُمْ وَاَسْلِمُوْا لَهٗ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ الْعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنْصَرُوْنَ ﴿٥٤﴾

او بیرته وګرځئ تاسی رب خپل ته (له شرکه او عصیانه) او غاړه کیږدئ ده ته پخوا له هغه چی راشی تاسی ته عذاب بیا به مدد درسره نشی کولی (په دفع د عذاب کښی)

**تفسیر:** د مغفرت په لوری د توجه ورکولو سره له دی ځایه د توبی په طرف توجه ورکوی یعنی پخپلو تیرو اغلاطو نادم شئ! او د الله تعالیٰ د بی پایانه جود او کرم څخه وشرمیږئ! او د کفر او عصیان لاره پریږدئ! او د هغه کریم رب په طرف رجوع وکړئ! او خپل ځانونه بیخی هغه ته وروسپارئ! او د ده د احکامو په مقابل کښی په نهایت عجز او اخلاص سره غاړه کیږدئ! او ښه وپوهیږئ چی په حقیقت کښی نجات یواځی د ده په فضل او کرم سره ممکن دی. زمونږ رجوع او انابت هم بی د الله تعالیٰ له فضله او کرمه نشی میسر کیدی. حضرت شاه صاحب لیکی «کله چی الله تعالیٰ اسلام غالب وګرځاوه هغه کفار چی په دښمنی کښی به مصروف ؤ وپوهیدل چی بیشکه الله تعالیٰ د اسلام حامی او ناصر دی او قانع شول چی مونږ په غلطه او بی لاری یو. نو پر خپلو دغو غلطیو متأثر او متاسف شول لیکن له شرمه او خجالته په اسلام نه مشرف کیدل او په خپلو زړونو کښی به ئی ویل اوس به زمونږ اسلام څرنګه منل کیږی؟ چی دښمنی مو له اسلام سره وکړه، او له مسلمانانو سره مو جنګونه وکړل او د ډیرو مسلمانانو وینی مو توی کړی نو الله تعالیٰ د دوی د تسلئ دپاره وفرمایل چی داسی هیڅ یوه ګناه نشته چی الله تعالیٰ د هغه توبه قبوله نه کړی مه بی‌هیلی او مه نا امیده کیږئ! توبه وکړئ! او الله ته رجوع وکوئ! بښلی کیږئ! مګر څه وخت چی ستاسی پر سر عذاب راشی او مرګ مو په نظر ورسیږی نو په هغه وخت کښی هیڅوک ستاسی کومک او مدد ته نشی رسیدی».

وَاتَّبِعُوْٓا اَحْسَنَ مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ
الْعَذَابُ بَغْتَةً وَّاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ۙ﴿٥٥﴾

او متابعت وکړئ د ډیر غوره حکم د هغه (قرآن) چی نازل کړی شوی دی تاسی ته له (جانبه د) رب ستاسی پخوا له هغه چی راشی تاسی ته عذاب یو ناڅاپه حال دا چی تاسی به نه پوهیږئ (چی له کوم لوری راځی)

**تفسیر:** له ښی خبری څخه مراد قرآن کریم دی یعنی پر قرآنی هدایتو عمل وکړئ! او د عذاب له

راتګه پخوا د خپل مستقبل په فکر او اندیښنه کښې اوسئ! که نه د عذاب له معائنې څخه وروسته به د هغه هیڅ تدارک او انتظام نشي کیدی او هیڅ یو تدبیر به مؤثر نه لویږي. د الله تعالیٰ عذاب به مو داسي یو ناڅاپه راګیر کړي چه تاسي به له سره د هغه پر راتګ نه خبریږئ.

أَن تَقُولَ نَفْسٌ يَٰحَسْرَتَىٰ عَلَىٰ مَا فَرَّطتُ فِى جَنۢبِ ٱللَّهِ وَإِن كُنتُ لَمِنَ ٱلسَّٰخِرِينَ ﴿٥٦﴾

(چابکي کوئ تاسي په تعمیل د قرآن باندی پخوا له هغه) چي ووائي یو نفس ای ارمان او ندامت مي دی پر هغه چي تقصیر مي کړی دی په طرف (په حق د طاعت) د الله کښې او بیشکه چي وم زه خامخا له مسخره کوونکیو (په مؤمن به) څخه.

**تفسیر:** یعني په هوا او هوس، رسم، تقلید او په دنیوی خوندو او چرچو کښې اخته او مشغول او د الله تعالیٰ له ذکره او یاده بلکه د ده له وجوده بیخي غافلان شوی ؤ. د ده دین او رسول او د هغه هولناک انجام په نسبت به مو چي رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ویرولو ملندی، توکی او مسخری کولې، او د دغو شیانو په حقیقت نه ؤ پوهیدلی. د ډیر افسوس ځای دی چي د الله تعالیٰ په پیژندلو او د ده د حقوقو په منلو کښې مونږ په څه اندازه سره غفلت او قصور کړی دی چي د هغه په نتیجه کښې نن له دغې بدی پیښې سره مخامخ شوی یو کفار به دغسې خبری په محشر کښې کوی که د آیت مضمون کفارو او عصاتو لره عام کیښود شي نو د ﴿وَإِن كُنتُ لَمِنَ ٱلسَّٰخِرِينَ﴾ معنی به «عملت عمل ساخر مستهزئ» وی. (کما فسر به ابن کثیر رحمة الله علیه).

أَوْ تَقُولَ لَوْ أَنَّ ٱللَّهَ هَدَىٰنِى لَكُنتُ مِنَ ٱلْمُتَّقِينَ ﴿٥٧﴾

یا (پخوا له دی نه) چي ووائي که چیری داسي وی چي بیشکه الله سمه لاره ښوولې وی ماته نو خامخا وم به زه له متقیانو پرهیزګارنو (له شرکه او له معاصي نه).

**تفسیر:** کله چي په حسرت او افسوس سره کار ونه چلیږی نو د خپل فهم غلطولو دپاره دغه ګوډ عذر وړاندی کوی. څه ووایم الله تعالیٰ ماته هدایت رانه کړ. که الله اراده فرمایلې وی نو نن به زه هم د متقیانو په مرتبه رسیدلی وم د دغه جواب وروسته داسي راځي ﴿بَلَىٰ قَدْ جَآءَتْكَ ءَايَٰتِى﴾

او ممکن دی چه دغه کلام د اعتذار او احتجاج په طریقه سره نه وی بلکه تش د یاس د اظهار په طور وی یعنی زه د خپلی بداستعدادی او بدتمیزی له سببه د دغی خبری وړ (مستحق) او لائق نه وم چی الله تعالیٰ ماته سمه لاره ښوولی وی او د مقصود تر منزل پوری ئی زه رسولی وی که په ما کښی اهلیت او استعداد وی او الله تعالیٰ زما لاس نیوی کړی وی نو زه به هم نن ورځ د متقیانو په زمره کښی شامل شوی وم.

---

اَوْ تَقُوْلَ حِيْنَ تَرَى الْعَذَابَ لَوْ اَنَّ لِيْ كَرَّةً فَاَكُوْنَ مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٥٨﴾

---

یا (پخوا له دی نه) چی ووائی (نفس) په هغه وخت کښی چی ووینی عذاب کاشکی وی ماته بیا بیرته ورتګ (دنیا ته) پس وم به زه هلته له نیکوکارانو (موحدانو هم په عقائدو هم په اعمالو کښی)

---

**تفسیر:** کله چی حسرت او اعتذار دواړه بیکاره ثابت شی او د دوزخ له عذابونو سره مخامخ شی نو په دغه وخت کښی به د اضطراب وارخطائی له شدته داسی وائی «په هر ممکنه صورت سره چی کیږی یو ځلی می بیا دنیا ته بیرته ولیږه! او د توبی او اطاعت فرصت او موقع راکړه! او وګوره چی زه په څه صلاح او تقویٰ سره بیرته درحاضریږم». فرمائی الله تعالیٰ چی ولی می هدایت نه وو درته کړی بلکه درته کړی می ؤ.

---

بَلٰى قَدْ جَآءَتْكَ اٰيٰتِيْ فَكَذَّبْتَ بِهَا وَاسْتَكْبَرْتَ وَكُنْتَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٥٩﴾

---

هو! داسی ده چی په تحقیق راغلی ؤ تاته دلائل (قرآن) زما پس تکذیب کړی ؤ تا په هغو سره او تکبر دی کړی وو او وی ته له کافرانو (نامنونکیو نه)

---

**تفسیر:** یعنی غلط وائی. آیا الله تعالیٰ درته سمه صافه لاره نه وه درښوولی؟ او خپل انبیاء ئی سره له معجزو او احکامو نه وو درلیږلی؟ مګر د هغوی خبری دی ونه منلی او هر هغه شی چی تاته ویلی کیده هغه مو سره له غروره تکبره او تکذیب کوو او ستا هم دغه لوئی او تکبر د حق له قبوله مانع ګرځیده. او خبره هم دا ده چی الله تعالیٰ ته له ازله دغه خبره معلومه وه چی ته به

د ده له آیتونو څخه انحراف او انکار کوی او په تکبر او سرکشی سره به وړاندی کیږی. ستا د طبیعت او مزاج غوښتنه او اقتضاء هم داسی ده چی که زر کرته د دنیا په طرف بیرته وګرځولی شی بیا به پخپلو هم هغو واهیو حرکاتو کښی مداومت کوی او له هغه څخه له سره لاس اخیستونکی نه ئی ﴿ وَلَوْ رُدُّوا لَعَادُوا لِمَا نُهُوا عَنْهُ وَإِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴾ (د انعام ۳ رکوع ۲۸ آیت د داسی خلقو په نسبت د الله تعالیٰ داسی عادت نه دی چی دوی بریالیان او کامیاب کړی بلکه خائب او خاسر کوی ئی.

وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ تَرَى الَّذِينَ كَذَبُوا عَلَى اللَّهِ وُجُوهُهُمْ مُسْوَدَّةٌ

او په ورځی د قیامت کښی به ووینی ته هغه کسان چی دروغ ئی تړلی دی پر الله پوری (په نسبت د شرک او نورو عیوبو) مخونه د دوی به تور کړی شوی وی

**تفسیر:** کومه خبره چی د الله تعالیٰ له جانبه راځی او هغی ته د دروغو نسبت کول شی هم دغه پر الله تعالیٰ دروغ تړل دی ځکه چی دروغ شمیرونکی داسی دعوی کوی چی الله تعالیٰ هغه خبره نه ده فرمایلی، حال دا چی په واقع کښی به ئی فرمایلی وی نو د دغو دروغو توروالی د قیامت په ورځ د دوی پر څیرو کښی څرګندیږی (ښکاره کیږی).

أَلَيْسَ فِي جَهَنَّمَ مَثْوًى لِلْمُتَكَبِّرِينَ ﴿٦٠﴾

آیا نشته په دوزخ کښی ځای دپاره د منکرانو (کافرانو؟ یعنی شته!)

**تفسیر:** پخوا په «فکذبت بها واستکبرت» کښی د دوو قسمو کفارو بیان وشو تکذیب چی پر کذب مشتمل دی او استکبار او غرور. دلته ئی دغه راوښودل چی د کذب او دروغو لامله (له وجی) به د دوی مخونه توریږی او د غرور او تکبر ځای پرته (علاوه) له دوزخه بل ځای نه دی.

وَيُنَجِّي اللَّهُ الَّذِينَ اتَّقَوْا بِمَفَازَتِهِمْ لَا يَمَسُّهُمُ السُّوءُ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦١﴾

او وبه ساتی الله (له دوزخه) هغه کسان چی ځان ئی ساتلی وی (له شرکه) په

سبب د خلاصي موندلو د دوی نه به رسیږی دوی ته سختي او نه به دوی غمجن کیږی.

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ متقیان د دوی د ازلی فوز او فلاح په سبب د بری او کامیابی پر هغه لوړ (اوچت) مقام رسوی چی هلته به له هر قسمه بدیو او شرورو څخه محفوظ او له هر راز (قسم) فکر او غم څخه به آزاد او محفوظ وی.

اَللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ ۖ وَّهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ وَّكِيْلٌ ﴿٦٢﴾ لَهٗ مَقَالِيْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۗ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿٦٣﴾

الله پیدا کوونکی د هر شیز دی (چی موجود وی په دنیا کښی) او دغه (الله) پر هر شیز وکیل (ساتونکی متصرف) دی. خاص هم دغه (الله) لره دی کلیګانی (چابیانی) (د خزانو) د آسمانونو او د ځمکی، او هغه کسان چی کافران شوی دی په آیتونو (دلائلو د قدرت) د الله دغه کسان هم دوی زیانکاران دی (چی ځای ئی ابدی دوزخ دی.)

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ هر شی پیدا کړی دی او وروسته له پیدائښته د ده د بقاء او تحفظ ذمهواری ئی هم پر خپل قدرت اخیستی ده او د ځمکی او آسمان د ګردو (تولو) شیانو تصرف او اقتدار هم ده ته حاصل دی ځکه چی د ګردو (تولو) خزانو کنجیانی له ده سره دی نو له داسی الله څخه مخ اړول او نورو شیانو ته مخ ګرځول فضول او بیکاره خبره ده ښائی چی انسان د الله تعالیٰ له غضبه وویریږی او د الله تعالیٰ رحمت او مهربانی ته امیدوار اوسی ځکه چی کفر او ایمان، جنت او دوزخ ګرد (تول) د ده تر واک (اختیار) او تصرف لاندی دی. هر څوک چی د الله تعالیٰ او د ده له کلامه منکریږی هیچیری به د قرار او هستوګنی ځای نه مومی. آیا هغه څوک چی د الله تعالیٰ څخه منحرف کیږی او مخ تری اړوی حقیقی فوز او فلاح ته هیلمن (آرزومند) کیدی شی؟ کله چی کفار د بت پرستی دعوت ورکړ سید الابرار ته نو دغه آیت نازل شو.

قُلْ اَفَغَيْرَ اللّٰهِ تَاْمُرُوْٓنِّيْٓ اَعْبُدُ اَيُّهَا الْجٰهِلُوْنَ ﴿٦٤﴾

ووایه (ای محمده!) آیا پس بی له الله امر کوئ تاسی ماته چی عبادت ئی وکړم ای جاهلانو ناپوهانو!

**تفسير:** يعني انتهائي ناداني حماقت او جهالت دا دی چی انسان الله تعالیٰ پریږدی او د نورو په عبادت کښې بوخت (مشغول) او لګيا شي او له رسول الله څخه داسي غوښتنه وکړی او تری طمع ولري چی دی (معاذالله) د کفر او شرک لاره د دوی له سببه غوره کړی. په ځينو رواياتو کښې راغلی دی چی مشرکانو رسول الله صلی الله عليه وسلم ته دعوت ورکړی ؤ چی راځه زمونږ د معبودانو عبادت کوه نو ځکه دغه پاس آيت لکه چی اوس مو وليکل د دوی په جواب کښې نازل شو.

وَلَقَدْ أُوحِيَ إِلَيْكَ وَإِلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكَ لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴿٦٥﴾ بَلِ اللَّهَ فَاعْبُدْ وَكُنْ مِنَ الشَّاكِرِينَ ﴿٦٦﴾

او خامخا په تحقيق وحی کړی شوی ده تاته او (وحی کړی شوی ده) هغو کسانو ته چه ړومبی له تا نه ؤ (داسی چی قسم دی) که شرک پيدا کړ تا (فرضاً) نو خامخا خراب به شي هرومرو (خامخا) عمل ستا او خامخا شي به ته هرومرو (خامخا) له زيانکارانو (نو ځان وساته له شرکه). بلکه (يواځی) د الله پس عبادت کوه او اوسه له شکر کوونکيو (په نعمت د توحيد او عبادت).

**تفسير:** يعني که له عقلي حيثيته وکتلی شي د ګردو (ټولو) اشياؤ پيدا کول، باقي پريښودل، او په هغه کښې د هر دول تصرفاتو جاری لرل يواځی د الله تعالیٰ کار دی. نو د عبادت مستحق ماسوا له الله څخه بل هيڅوک نشي کيدی او که له نقلي حيثيته ملاحظه وکړئ نو ټول انبياء الله او سماويه اديان د توحيد په صحت او د شرک پر بطلان متفق دی بلکه هر نبی ته د وحی په ذريعه دغه ښوولی شوی دی چه په آخرت کښې د مشرکانو ټول اعمال بيخي بيکاره دی او د شرک انجام د خالص حرمان او خسران څخه سواء بل شي نه دی. لهٰذا پر هر انسان دغه لازم دی چی له ګردو (ټولو) څخه وشکوی او له الله تعالیٰ سره د خپل عبوديت تعلقات ونښلوی او د الله تعالیٰ وفادار او شکرګزار او احسان پيژندونکی بنده شي د ده عظمت، قدرت، جلال، او کمال ښه وپيژني. عاجز او ناتوانه مخلوقات د ده شريک ونه ګرځوی او هغه په هم هغو صفاتو سره لوی پورته اعلیٰ او ارفع وګڼی لکه چی په واقع کښې هم دی.

وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ

او تعظيم نه دی کړی دغو (مشرکانو) د الله حق د تعظيم د ده

**تفسیر:** یعنی مشرکینو د الله تعالیٰ عظمت، علویت، کمال، جلال لوئی او بزرگی تر هغی اندازی او مرتبی پوری ونه پیژندله او ملحوظه ئی نه کړه چی تر هغی اندازی او مرتبی پوری پر یوه بنده د هغه معرفت او پیژندګلوی لازمه ده چی هغه وپیژنی او ملحوظه ئی ولری. د الله تعالیٰ د رفیع شان او لوړی (اوچتی) مرتبی د اجمالی تصور کوونکی آیا د عاجز او محتاج مخلوق حتیٰ د بیځانه ګټو او بتانو شرکت له الله تعالیٰ سره تجویز کولی شی؟ حاشا وکلا! وروسته له دی نه د الله تعالیٰ د عظمت او قدرت، د جلال او کمال د ځینو شئونو بیان دی.

وَالْاَرْضُ جَمِيْعًا قَبْضَتُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَالسَّمٰوٰتُ مَطْوِيّٰتٌ بِيَمِيْنِهٖ ؕ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿٦٧﴾

او ځمکه توله په قبضه تصرف د ده کښی ده په ورځ د قیامت کښی او آسمانونه نغښتلی شوی دی په یمین د ده کښی، پاکی ده ده ته او لوړ (اوچت) لوی دی له هغو شیانو نه چی دوی ئی شریکوی (له الله سره بتان او نور شیان).

**تفسیر:** یعنی د ده د عظمت شان دغه حال دی چه د قیامت په ورځ کښی توله ځمکه د ده د قدرت په یو موټی کښی او ګرد (تول) آسمانونه د کاغذونو د یوی لولی پشان به د ده د قدرت په یوه لاس کښی وی د ده په بندګی او عبادت کښی به د بیځانه یا عاجز او محتاج مخلوق شرکت تر کومی اندازی پوری جائز او روا وی؟ دغه شرکاء خو تول د ده د قدرت په موټی کښی دی. څرنګه چی دی اراده وکړی پر دوی خپل هر راز (قسم) تصرفات جاری کوی هیڅوک د ده په مقابل کښی خپل غوړ او ژبه نشی خوځولی.
**تنبیه:** د «مطویات بیمینه» په متعلق د «انبیاء» په سورت کښی د «یوم نطوی السماء» الآیة تفسیر ښائی ولوست شی. او پر «یمین» او نورو متشابهاتو الفاظو بلاکم او کیف ایمان لرل واجب دی. په ځینو احادیثو کښی راغلی دی **«وکلتایدیه یمین»** د ده دواړه لاسونه ښی دی. له دی نه د تجسم، تحیز، جهت او د نورو نفی کیږی.

وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ اِلَّا مَنْ شَآءَ اللّٰهُ ؕ ثُمَّ نُفِخَ فِيْهِ اُخْرٰى فَاِذَا هُمْ قِيَامٌ يَّنْظُرُوْنَ ﴿٦٨﴾

او پوکل به وکړل شي په صور (شپېلۍ) کښې پس بیخوده مړه به شي هر هغه چې په آسمانونو کښې دي او هر هغه چې په ځمکه کښې دي مګر هغه څوک چې اراده وفرمائي الله (د نه وژلو د هغه) بیا به وپوکل شي په هغه (صور) کښې بل ځلې پس ناڅاپه دغه خلق به (چې مړه ؤ تول) ولاړ وي (منتظر وي چې څه رابانديٰ کیږي)

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکي «یو ځلې د صور شپېلۍ نفخ د عالم د فنا کولو دپاره ده او دوهمه د ژوندي کولو او دریمه وروسته له حشره د بیهوشۍ، څلورمه د خبردار کیدلو، وروسته له هغه ګرد (تول) د الله تعالیٰ په مخکښې ور وړاندې کیږي» ( بتغییر یسیر).
لیکن د اکثرو محققینو علماوو په نزد تول به دوه ځلې د صور نفخې کیږي په اوله کښې به د ګردو (تولو) هوش او حواس ورک کیږي بیا هغه کسان چې ژوندي دي مړه کیږي. او د هغو پر ارواحو چې مړه دي د بیهوشۍ کیفیت طاري کیږي بیا به بله نفخه کیږي چې د هغې په اثر د مړیو ارواح به د ابدانو په طرف بیرته راګرځي. او تول بیهوشان به په سد (هوش) کیږي. په دغه وخت کښې د محشر د دې عجیبو او غریبو مناظرو د لیدلو څخه ګرد (تول) مخلوقات حیران او پریشان او متحیر کیږي بیا به په ډیر سرعت سره د قدوس الله په مخکښې وړاندې کیږي او ګرد (تول) سره ورحاضرول شي.
**تنبیه:** له «الا من شاءالله» څخه ځینو جبرئیل، میکائیل، اسرافیل او عزرائیل علیهم السلام مراد نیولي دي او ځینو له هغوی سره حملة العرش هم شامل کړي دي. د ځینو په نزد تری انبیاء او شهداء مراد دي. والله اعلم. په هر حال دغه استثناء به د هغې نفخې په وخت کښې وي چې وروسته له هغه ممکن دي پر دوی هم فناء طاري کیږي ﴿لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ﴾ (د جزء ٢٤ المؤمن ٢ رکوع ١٦ آیت ).

وَاَشْرَقَتِ الْاَرْضُ بِنُوْرِ رَبِّهَا وَوُضِعَ الْكِتٰبُ وَجِایْٓءَ بِالنَّبِيّٖنَ وَالشُّهَدَآءِ وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿٦٩﴾

او روښانه به شي ځمکه په نور د رب د دغې (ځمکې لپاره د فیصلې د بندګانو) او کیښود به شي کتاب (عمل نامې دپاره د حساب) او راتله به وکړل شي په انبیاؤ (محشر ته) او په شهداؤ سره (له هر امته) او حکم به وکړ شي په منځ د دوی کښې په حق عدل سره او پر دوی به ظلم ونکړ شي (هیڅ قدر به تزئید د عقاب یا تنقیص د ثواب)

**تفسیر:** یعنی وروسته له هغه به الله تعالیٰ د حساب او کتاب دپاره له خپل شان سره مناسب د اجلال نزول فرمائی **(کما ورد فی بعض روایات الدر المنثور)** په دغه وخت کښی د الله تعالیٰ له بی کیفه تجلی او نور څخه به محشر کښی یوه مخصوصه رڼا (رنړا) او انوار پورته کیږی. د گردو (تولو) اعمال نامی به د دوی په لاسو کښی ورکولی کیږی. انبیاء علیهم السلام او نور شاهدان به د الله تعالیٰ په دربار کښی حاضریږی. او د هر انسان د اعمالو په نسبت به په نهایت عدل او انصاف سره په ښه شان سره فیصلی او احکام اورولی کیږی. او پر هیچا به هیڅ قسم زیادت او تیری نه کیږی.

**تنبیه:** له «شهداء» څخه مراد برسیره پر انبیاء علیهم السلام پرښتی، محمدی امت او د انسانانو لاسونه پښی او نور گرد (تول) مراد کیدی شی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه له دی نه د هر امت نیک انسانان مراد کړی دی.

وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ

او پوره به ورکړه شی هر نفس لره (جزا د هغه) عمل (چی کړی) ئی ؤ (ده)

**تفسیر:** یعنی د نیکی په بدل کښی تنقیص او د بدی په بدل کښی تزئید نه واقع کیږی د هر چا هومره چی ښه یا بد عمل وی هغه گرد (تول) د الله تعالیٰ په علم کښی دی سم له هغه سره بدل ورکول کیږی چی د هغه څه تفصیل وروسته له دی نه راځی.

وَهُوَ أَعْلَمُ بِمَا يَفْعَلُونَ ۝٧٠ ع

او حال دا چی الله ښه عالم دی پر هغو اعمالو چی دوی ئی کوی (نو جزا به پری ورکړه شی)

**تفسیر:** یعنی شاهدان راځی د دوی د ملزم کولو دپاره که نه له الله تعالیٰ څخه هیڅ یو شی پټ نه دی (کذا فی الموضح).

وَسِيقَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِلَىٰ جَهَنَّمَ زُمَرًا ط

او شړلی راښکلی کیږی (په شدت سره) هغه کسان چی کافران شوی دی طرف د دوزخ ته ډلی ډلی

**تفسير:** يعنى تول كافران په تيل وهلو او په نهايت ذلت او خوارى سره د دوزخ په طرف شړل او بيول كيږى، څرنګه چې د كفر اقسام او مراتب ډير دى نو هر قسم او هره درجه د كفارو دله سره بيله بيله كوله شي.

حَتّٰىٓ إِذَا جَآءُوهَا فُتِحَتْ أَبْوَابُهَا

تر هغه پورى چې راشي دوى دوزخ ته حال دا چې وبه پرانيستلى شي دروازى د دغه (دوزخ)

**تفسير:** هم هغسى چې د دنيوى بنديخانى دروازى خلاصى نه وى هر كله چې كوم بندى پكښى ننويستل كيږى ور ئى ورته خلاصوى او وروسته د ده له ننوتلو څخه بيرته وربندول كيږى. هم داسى ځه وخت چې دوزخيان دوزخ ته نژدى رسيږى د دوزخ دروازى پرانيستلى كيږى او دوزخيان په تيل وهلو سره پكښى غورځولى كيږى او بيا ئى دروازى تړلى كيږى، **كما قال الله تعالىٰ** ﴿ إِنَّهَا عَلَيْهِم مُّؤْصَدَةٌ ﴾ (همزة).

وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَآ أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنكُمْ

او وبه وائى دوى ته خزانچيان (متصرفان) د دغه (دوزخ) آيا نه ؤ راغلى تاسى ته رسولان له تاسى نه

**تفسير:** يعنى هغه پرښتى چې د دوزخ محافظانى دى دوى به كفارو ته د ملامتى په ډول سره داسى وائى « آيا نه ؤ درغلى تاسى ته رسولان له تاسى» يعنى چې له هغه ځنى له دى سببه چې ستاسى له همجنسانو څخه ؤ فيض فائده اخيستل ډير آسان ؤ.

يَتْلُونَ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتِ رَبِّكُمْ وَيُنذِرُونَكُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَا ۚ قَالُوا۟ بَلَىٰ وَلَٰكِنْ حَقَّتْ كَلِمَةُ ٱلْعَذَابِ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٧١﴾

چې لوستل به دغو (رسولانو د تاسى) پر تاسى آيتونه (د قرآن) د رب ستاسى او ويرول به دوى تاسى له ملاقات د هغى ورځى ستاسى چې دغه ده،

وبه وائی (کفار چی ولی نه ؤ راغلی) بلکه راغلی ؤ ولیکن ثابته شوی ده کلمه (حکم) د عذاب پر کافرانو

**تفسیر:** یعنی ولی انبیا نه ؤ راغلی، بلکه ضرور راغلی ؤ او د الله تعالیٰ کلام ئی راوړی ؤ او له نن ورځی څخه ډیر زیات ویرولی شوی ؤ، لیکن مونږ له خپلی بدبختی او نالائقی، د هغو خبرو او پندونو ته غوږ کښېښنبود، څو بالاخر د الله تعالیٰ د داسی قاطع او لایتغیر تقدیر سره مخامخ شو او د عذاب حکم پر مونږ کفارو په قطعی ډول سره ثابت او نافذ شو ﴿فَاعْتَرَفُوا بِذَنْبِهِمْ فَسُحْقًا لِأَصْحَابِ السَّعِيرِ﴾ (الملک).

قِيلَ ادْخُلُوا أَبْوَابَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِينَ ﴿٧٢﴾

وبه ویل شی دوی ته ننوځئ دروازو د دوزخ ته په دی حال کښی چی همیشه اوسیدونکی اوسئ په ده کښی. پس بد دی ځای د هستوګنی د متکبرانو (دا دوزخ).

**تفسیر:** یعنی تاسی د خپل تکبر، لوئی او غرور له سببه د الله تعالیٰ خبره ونه منله نو اوس تل په دوزخ کښی پراته اوسئ! او د هغه د عذابونو خوند وڅکئ!

وَسِيقَ الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ إِلَى الْجَنَّةِ زُمَرًا ط

او بیول کیږی (بلل کیږی) به هغه کسان چی ویریدل به دوی له ربه خپله طرف د جنت ته ډلی ډلی

**تفسیر:** یعنی کله چی د ایمان او تقویٰ مدارج متفاوت دی د هری درجی متقین مؤمنین جلا (جدا) او د هری یوی ډلی به سره بیلی وی. او دغو ګردو (تولو) جماعتونو ته ډیر زیات تشویق او ترغیب ورکول کیږی او په ډیره مینه او محبت سره د جنت په طرف لیږل کیږی.

حَتَّى إِذَا جَاءُوهَا وَفُتِحَتْ أَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا سَلَامٌ عَلَيْكُمْ طِبْتُمْ فَادْخُلُوهَا خَالِدِينَ ﴿٧٣﴾

تر هغه پورې چې راشي دوى جنت ته حال دا چې پرانيستلى شوى به وى دروازې د دغه (جنت) او وبه وائى دوى ته خزانچيان (متصرفان) د جنت سلام دى وى پر تاسى پاک يئ تاسى (له ګناهونو) پس ننوځئ جنت ته په دى حال کښې چې هميشه اوسيدونکى اوسئ (په ده کښې)

**تفسير:** څرنګه چې د ميلمنو د دوى له راتګه څخه پخوا د مهمان خانى دروازې پرانيستلى کيږى او د هغوى دپاره د هوسائى (راحت) او آرام هر راز (قسم) وسائل او وسائط برابرول شى کله چې جنتيان هلته ورسيږى نو د جنت دروازې به د دوى په مخکښې پرانيستلى خلاصې وى. کما جاء فى الركوع (٤) من سورة صٓ ﴿ مُّفَتَّحَةً لَّهُمُ الْأَبْوَابُ ﴾ او د الله تعالىٰ پرښتى به په نهايت اعزاز او اکرام سره په سلامونو او ثناؤ او نورو د دوى استقبال کوى او ورته «هر کله راشئ! ښه راغلئ!» وائى او د جنت د تل اوسيدلو بشارات او زيرى به ورته ورکوى.

وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي صَدَقَنَا وَعْدَهُ

او وائى به دغه (جنتيان) توله ثناء صفت خاص الله ته دى هغه (الله) چې رښتينه ئى کړه له مونږ سره وعده خپله

**تفسير:** يعنى د الله تعالىٰ شکر او حمد وايو. هغه وعدى چې مونږ د انبياؤ له خولى څخه اوريدلى وى د هغو تصديق مونږ پخپلو سترګو وينو.

وَأَوْرَثَنَا الْأَرْضَ نَتَبَوَّأُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ نَشَاءُ

او ميراث ئى راکړه مونږ ته ځمکه (د جنت) چې ځاى نيسو له جنته هر ځاى چې خوښ شي زمونږ،

**تفسير:** حضرت شاه صاحب ليکى «جنتيانو ته حکم شته هر چيرى چې زړه ئى غواړى هم هغلته دى وسيږى ليکن د هر جنتى زړه به هم هغه ځاى خوښوى چې د ده دپاره لا له پخوا څخه مخصوص او معين کړى شوى دى» د ځينو په نزد مراد ئى داسى دى چې په جنت کښې د تللو او راتللو او له يوه ځاى بل ځاى ته ورتګ هيڅ ممانعت نه دى او هر جنتى هر چيرى ئى چې زړه وغواړى هم هغلته وردرومى.

فَنِعۡمَ اَجۡرُ الۡعٰمِلِيۡنَ ﴿٧٤﴾ وَتَرَى الۡمَلٰٓئِكَةَ حَآفِّيۡنَ مِنۡ حَوۡلِ الۡعَرۡشِ يُسَبِّحُوۡنَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ ۚ وَقُضِىَ بَيۡنَهُمۡ بِالۡحَقِّ وَقِيۡلَ الۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿٧٥﴾

پس ښه دی اجر د (نيک) عمل کوونکيو (دغه جنت). او وينې به ته (ای محمده!) پرښتې طواف کوونکی (چار چاپير نيوونکی) چاپير له عرشه چې تسبيح به وائی دوی (پيوسته) له حمده ثنا د رب د دوی سره، او حکم به وکړ شي په منځ د خلقو کښې په حق سره او به ويلی شي چې ټوله ثناء ده خاص الله ته چې رب پالونکی د عالميانو دی.

**تفسير:** يعنې څه وخت چې الله تعالیٰ د حساب او کتاب دپاره د اجلال نزول وفرمائی په دغه وخت کښې به پرښتو د عظيم عرش په چار چاپير کښې حلقه تړلې وی او ګردی (ټولې) به د خپل رب په تسبيح او تحميد کښې لګيا او مشغولې وی او د ګردو (ټولو) بندګانو د اعمالو فيصلې به په ډير انصاف او ښه دول (طريقه) سره وکړی شي چه د هغې په اثر به له هر لوری څخه په ډير جوش او خروش سره د ﴿ اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ﴾ ناری پورته کيږی يعنې ټوله ثناء صفت او محامد هغه پاک الله ته وړ (مستحق) او لائق دی چې د ګرد (ټول) جهان رب او پروردګار دی او د ټول عالم په نسبت ئې داسې ښه احکام او عمده فيصلې صادرې کړی دی د دغه تحميد او تحسين د چغو څخه وروسته دغه دربار خاتمه مومی. عموماً ګردو (ټولو) مفسرينو د دغه آيت هم دغه مطلب اخيستی دی ليکن حضرت شاه صاحب دغه آيت د راهنه پر حالت حمل کړی دی او د «قضی بينهم» ضمير ئې د ملائکو په طرف راجع کړی داسې ليکی «د پرښتو په منځ کښې فيصله دغه ده چې هر يوه پرښته (په ملأ الاعلیٰ کښې) يو تدبير سم له خپلې قاعدې سره وائی (**کما يشير اليه اختصام الملا الاعلی وتفصيله فی حجة الله البالغة**) بيا الله تعالیٰ د يوی پرښتې خبرې ته د نفاذ او د اجراء حکم ورکوی او هم هغه خبره له حکمت سره موافقه وی. دغه ماجراء اوس هم دوام او جريان لری او په آخرت کښې به هم د دی سلسله نه منقطعه کيږی.» والله تعالیٰ اعلم بالصواب.

**تمت سورة الزمر بعون الله وتوفيقه فله الحمد والمنة**

سورة المؤمن مكية الا آيتى (٥٦ و ٥٧) فمدنيتان وهى خمس و ثمانون آية وتسع ركوعات عدد تلاوتها (٤٠) وعدد نزولها (٦٠) نزلت بعد الزمر

د «المومن» سورت مكى دى پرته (علاوه) له (٥٦) ؤ (٥٧) آيته څخه چى مدنى دى (٨٥) آيت او (٩) ركوع لرى

په تلاوت كښى (٤٠) او په نزول كښى (٦٠) سورت دى وروسته د «الزمر» له سورته نازل شوى دى

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع كووم په نامه د الله چه ډير زيات مهربان پوره رحم لرونكى دى

حٰمٓ ﴿١﴾ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللهِ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ﴿٢﴾ غَافِرِ الذَّنْۢبِ وَقَابِلِ التَّوْبِ

نازليدل د دى كتاب (قرآن) له (جانبه) د الله دى چى (دى) ښه غالب قوى (په انفاذ د احكامو) ښه عالم دى (پر هر څيز) ښښونكى د ګناهونو دى (عاصيانو لره) او قبلوونكى د توبى دى (تائبانو لره)

**تفسير:** يعنى توبه قبلوى او له ګناهونو څخنى تائب داسى پاک او صافوى چى ګواكى له سره ئى څه ګناه او خطا نه وى كړى او علاوه پر هغه توبه ئى د مستقل طاعت په منزله دروى او د هغه په بدل اجر ورعنايت فرمائى.

شَدِيْدِ الْعِقَابِ ذِى الطَّوْلِ

سخت دى عذاب (د ده كفارو لره) څښتن (خاوند) د فضل دى (په مؤمنانو بى پروا له هر چا)

**تفسير:** يعنى بى نهايته د قدرت او وسعت او غناء څښتن (خاوند) دى چى پر بندګانو د انعام او احسان بارانونه وروى.

لَآ إِلٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ إِلَيْهِ الْمَصِيرُ ﴿٣﴾

نشته لایق د عبادت بل هیڅوک مګر یوازې هم دې دې خاص هم ده ته بیرته ورتلل دي (لپاره د حساب)

**تفسیر:** چې هلته له وررسیدلو څخه وروسته هر یوه ته د دوی د اعمالو مکافات او بدل ورکول کیږي.

مَا يُجَادِلُ فِيٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟

جګړې نه کوي (طعنې نه وائي) په آیتونو د الله مګر هغه کسان چې کافران شوي دي

**تفسیر:** یعنې د الله تعالیٰ کلام او خبرې او د ده د عظمت او قدرت دلائل داسې نه دي چې په هغه کښې څه مناقشه، مجادله او جګړه وکړه شي. مګر هغه خلق چې دا ئې له خپلو ځانونو سره غوته کړې ده چې د خورا (ډیر) روښانو دلائلو او براهینو او له ډیرو ښو ښکاره‌ؤ شواهدو څخه به هم انحراف او انکار کوي نو دوی پر دغو د رښتیا خبرو په ناحقه سره جګړې او مناقشې کوي.

فَلَا يَغْرُرْكَ تَقَلُّبُهُمْ فِى ٱلْبِلَٰدِ ﴿٤﴾

پس نه دې تیر باسي تا ګرځیدل د دوی (په هوسائې (آرام) سره) په ښارونو کښې (ځکه چې عاقبت د دوی دوزخ دی)

**تفسیر:** یعنې د داسې منکرینو انجام تباهي او هلاکت دی. اګر که دوی فی‌الحال په ښارونو او کلیو کښې ګرځي، سیلونه ، سیاحتونه سوداګري کوي او پخپلو چرچو کښې مشغول دي. نو نه ښائي چې تاسې د دوی پر دغه راحت او هوسائې (آرام) وغولیږئ . ځکه چې دغه د الله تعالیٰ له طرفه امهال او استدراج دی. څو دوی څو ورځې په دنیا کښې ښکته پورته وګرځي، خوندونه او مزې وکړي یا تجارت او پلمې (تدبیرونه) او بهانې وکړي په هغه ورځ کښې چې دوی د غفلت په نشه کښې په ښه ډول (طریقه) سره مست او مخمور شي بیا نیول کیږي. د پخوانیو اقوامو حال هم هم داسې شوی ؤ. لکه چې اوس الله اعلیٰ شانه واعظم برهانه پخپله ئې مثال داسې فرمائي

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَّالْأَحْزَابُ مِنْ بَعْدِهِمْ ۖ وَهَمَّتْ كُلُّ أُمَّةٍ بِرَسُولِهِمْ لِيَأْخُذُوهُ ۖ وَجَادَلُوا بِالْبَاطِلِ لِيُدْحِضُوا بِهِ الْحَقَّ فَأَخَذْتُهُمْ ۖ فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ ﴿٥﴾

دروغجن شمیرلی ؤ (رسولان خپل) پخوا له دوی نه قوم د نوح او نورو اقوامو وروسته له دوی نه او قصد وکړ هر امت (له دوی نه پر رسول خپل چې ونیسی دوی هغه (رسول او ضرر وررسوی) او جګړې به کولی دوی (له دغو رسولانو سره) په باطله سره دپاره د دې چې پټ کړی په دغه (باطله سره). حق (توحید) پس ومو نیول دوی (په عذاب سره) پس څرنګه ؤ سزاء عقوبت زما (دوی لره؟)

**تفسیر:** د هر امت اشرارو د خپلو انبیاؤ د وژلو یا د د زحمت او تکلیف وررسولو ارادی کړی وی او همیشه هغوی د داسی چلونو او پلمو (تدبیرونو) په جوړولو کښې مصروفیدل چې د هغو په وسیله حق او رښتیا دین ته ماتی او شکست ورکړی او د حق غږ پری نږدی چې پورته شی لیکن مونږ د دوی دغه مکرونه او فریبونه ټل ناقصه او ناکامه ګرځولی دی، او د دې په ځای چې دغه اشرار زمونږ انبیاؤ ته لاس وروغځوی یا ئی ونیسی مونږ هم دغه اشرار پخپل غضب او قهر کښې اخته او سختی سزاوی مو ورته ورکړی دی. بیا وګورئ چې زمونږ د هغو سزاؤ نتیجه څرنګه په ظهور ورسیده؟ او د دوی بیخ او بکر مو څرنګه له وویست؟ نن هم د هغو سپیره شویو اقوامو څه آثار چیری چیری شته او په نظر راځی چې د هغو د لیدلو څخه یو انسان د دوی تباهی په نسبت څه فکر، غور او تصور کولی شی.

وَكَذَٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّهُمْ أَصْحَابُ النَّارِ ﴿٦﴾

هم داسی (لکه وجوب د عذاب پر دغو مکذبینو) واجبه شوی ده خبره (د عذاب) د رب ستا پر هغو کسانو چې کافران شوی دی (هغه کلمه دا ده چې) بیشکه دوی ملګری د اور (د دوزخ) دی.

**تفسیر:** یعنی هم هغسی چې پر پخوانیو اقوامو د عذاب راتلونکی خبره پوره نازله او منطبقه شوی ده پر اوسنیو منکرینو ئی هم نازله وبوله او هم هغسی چې د انبیاؤ د اعلان سره موافق پر کفارو

دنیوی عذاب نازل شوی دی ستا د رب دغه خبره هم یو ثابت شوی حقیقت دی. چی په آخرت کښی د دغو خلقو ځای دوزخ دی.

**تنبیه:** ځینو «انهم اصحاب النار» د «لانهم» په معنی اخیستی او دغه مطلب ئی تری ایستلی دی چی د تیرو منکرینو په شان پر موجوده منکرینو هم د الله تعالیٰ خبری رښتیا دی ځکه چی دوی هم له «اصحٰب النار» څخه دی.

اَلَّذِيْنَ يَحْمِلُوْنَ الْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهٗ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۚ

هغه کسان (له ملائکو) چی پورته اخلی عرش او هم هغه (پرښتی) چی چار چاپیری دی د عرش تسبیح وائی سره د حمده ثناء د رب د دوی او ایمان ئی راوړی دی. په دغه (الله) او مغفرت غواړی (له الله نه) هغو کسانو ته چی ایمان ئی راوړی دی،

**تفسیر:** په رومبنیو آیتونو کښی د مجرمینو او منکرینو د بدو حالاتو بیان ؤ، دلته د دوی په مقابل کښی د تائبینو مؤمنینو د فضل او شرف بیان فرمائی یعنی د عظیم عرش حاملین او د هغه په چار چاپیر کښی بیشماره مطوفینی پرښتی چی د دوی غذا یواځی د الله تعالیٰ تسبیح او تحمید دی او د الله تعالیٰ د دربار د مقربیت لامله (له وجی) په اعلیٰ درجی سره د ایمان او یقین لرونکی دی دوی د الله تعالیٰ په حضور کښی د مؤمنینو دپاره دعاء او استغفار کوی سبحان الله د داسی عزت او پت زیاتولو او شرف او احترام په نسبت څه وویلی شی چی د خاوری په مخ د هستیدونکو مؤمنینو څخه چی کومی خطاوی تیروتل او ښوئیدل شوی دی د کروبیین ملائکی د هغوی دپاره د احدیت په دربار کښی په غیاب د دوی کښی دعاء او استغفار کوی او کله چی د دوی په شان کښی «ویفعلون مایؤمرون» راغلی دی نو دوی به د الله تعالیٰ له طرفه پر دغه کار مامور وی.

رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ رَّحْمَةً وَّعِلْمًا فَاغْفِرْ لِلَّذِيْنَ تَابُوْا وَاتَّبَعُوْا سَبِيْلَكَ وَقِهِمْ عَذَابَ الْجَحِيْمِ ۝٧

(نو وائی چی) ای ربه زمونږ رسیدلی ئی ته هر څیز ته له جهته د رحمته

بخشش او علمه پس مغفرت وکړه هغو کسانو ته چې توبه ئې ایستلې دی او متابعت ئې کړی دی د لارې ستا او وساته دوی له عذابه د دوزخ نه.

**تفسیر:** دغه ئې د پرښتو د استغفار صورت ښوولی دی یعنی د الله تعالیٰ په دربار کښې داسې عرض کوي «ای زمونږ ربه! ستا علم او رحمت په هر شي محیط دی پس هغه څوک چې ستا په محیط علم ئې بد کارونه پرې ایښې وې او د زړه په صدق سره ئې ستا په طرف رجوع کړې وې او ستا پر سمه لاره ئې د تللو زیار، کوشش ایستلی وی او د بشریت په اقتضاء څه کمزوری او خطاوی له دوی نه صادرې شوې وې ته پخپل فضل، رحمت او کرم سره هغه وروبښه نه په دنیا کښې څه ربړ (تکلیف) او زحمت ورپیښ کړې! او نه په عقبا کښې د دوزخ مخ ورښکاره کړې! باقي هغه مسلمانان چې د توبې او انابت لاره ځانته غوره نه کړې دلته د هغوی څه ذکر نشته او دغه آیت د دوی له ذکره ساکت دی. په ظاهر سره د عرش حاملین د دوی په حق کښې دعا نه کوي. الله تعالیٰ له هغوی سره څرنګه معامله کوي؟ دغه خبره دې له نورو نصوصو څخه ښائي د ځان دپاره معلومه کړې!

رَبَّنَا وَاَدْخِلْهُمْ جَنّٰتِ عَدْنِ ﹰالَّتِیْ وَعَدْتَّهُمْ وَمَنْ صَلَحَ مِنْ اٰبَآئِهِمْ وَاَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّیّٰتِهِمْ ؕ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِیْزُ الْحَكِیْمُ ۙ﴿۸﴾

(او هم وائی به) ای ربه زمونږ او ننه باسه دوی په جنتونو د همیشه هستوګنې کښې هغه چې وعده کړې ده تا له دوی سره او څوک چې نیک شوی وی له پلرونو د دوی او (له) ښځو د دوی او (له) اولادو د دوی، بیشکه چې ته هم ته ئې ښه غالب قوی (په انفاذ د احکامو) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوې).

**تفسیر:** یعنی اګر که جنت هر چا ته د ده د عمل په صله کښې وررسیږي لکه چې دلته هم د «ومن صلح» له قیده ښکاره ده او بې له خپل ایمان او اصلاح، ښځه، اولاد، مور ؤ پلار او نور ئې هیڅ په کار نه ورځي لیکن ستا حکمتونه داسې هم دی چې د یوه له خاطره ډیرو کسانو ته د دوی له عمله زیات په اعلیٰ درجې رسوې کما جاء فی الرکوع (۱) ۲۱ آیت من سورة (الطور) فی جزء (۲۷) ﴿وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّیَّتُهُمْ بِاِیْمَانٍ اَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّیَّتَهُمْ وَمَآ اَلَتْنٰهُمْ مِّنْ عَمَلِهِمْ مِّنْ شَیْءٍ﴾ که په ژوره کتنه سره وګورئ نو هغه به هم په حقیقت کښې د هم دوی د قلبي عمل بدل وی مثلاً دوی به آرزو او ارمان لرې چې مونږ هم ښائی د دې صالح سرې د اعمالو متابعت او تقلید کړې وی دغه نیت او د نیکۍ حرص به د الله تعالیٰ په دربار کښې مقبول شي

يا د هغه صالح سړی د اکرام او مداراتو یو صورت به هم دغه وی چی د هغه مور او پلار او ښځه او اولاد هم په هم هغی درجی کښی ورسره پریښودلی شی.

وَقِهِمُ السَّيِّاٰتِ ۗ وَمَنْ تَقِ السَّيِّاٰتِ يَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمْتَهٗ ۗ وَذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿٩﴾

او وساته دوی له بدیو څخنی، او هر څوک چی وساتی ته له بدیو څخه په دغه ورځ د قیامت کښی نو په تحقیق رحمت دی وکړ پری او دغه (ساتل ستا له عذابه) هم دغه دی بری ډیر لوی.

**تفسیر:** یعنی په محشر کښی دوی ته هیڅ قسم بدی مثلاً ویره، پریشانی او نور لاحق نه وی او دغه عظیم الشان بری او کامیابی خاص ستا په مهربانی او مرحمت حاصلیدی شی. ځینو مفسرینو له «سیآت» څخه سیئه اعمال مراد اخیستی دی یعنی وروسته له دی نه دوی ئی له بدو کارونو څخه محفوظ وفرمایل! او د دوی خوی او عادت ئی داسی وګرځاوه چی د بدی په لوری متمائل نشی. ښکاره ده هر هغه چی نن دلته له بدی څخنی ځان وساتی پر هغه ستا لوی فضل او کرم شوی دی. او هم دغسی سړی به هلته اعلیٰ بری او کامیابی حاصلوی. په دغه تفسیر کښی د «یومئذ» ترجمه دی د هغی ورځی په ځای په دی ورځی سره وکړه شی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «یعنی که ستا لطف او مهربانی وی نو له بدیو څخنی به دوی ځان وساتی او پخپل عمل سره هیڅوک خپل ځان نشی ساتلی له لږ یا ډیری بدی څخه څوک تش دی» په دغو الفاظو سره دغه دواړه تفاسیر منطبق کیدی شی.

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُنَادَوْنَ لَمَقْتُ اللّٰهِ اَكْبَرُ مِنْ مَّقْتِكُمْ اَنْفُسَكُمْ اِذْ تُدْعَوْنَ اِلَى الْاِيْمَانِ فَتَكْفُرُوْنَ ﴿١٠﴾

بیشکه هغه کسان چی کافران شوی دی (چی دوزخ ته داخل کړل شی نو) غږ به ورته وکړ شی (په ژبو د ملائکو چی) خامخا دښمنی (او قهر) د الله (پر تاسی باندی) ډیر لوی دی له دښمنی (او قهر) ستاسی له ځانونو خپلو سره کله چی وبه بللی شوئ تاسی (په دنیا کښی) طرف د ایمان راوړلو ته پس کافران کیدئ به تاسی (او له ایمانه به تښتیدلئ).

**تفسیر:** دغه به د قیامت په ورځ کښې وائی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «یعنی نن تاسی له خپل نفس څخه بیزاره یئ او پر خپل ځان لعنت وایئ په دنیا کښې چې کافران کیدئ په دغه وخت کښې الله تعالیٰ له دی نه زیات پر تاسی لعنت لیږه او ستاسی له حرکاتو به نارضاء ؤ چې د هم هغه بدل نن ورځ مومئ» ځینو مفسرینو د «مقتین» له زمانو ځنی یوه زمانه مراده کړی ده او داسی معنی ئی کوی چې تاسی په دنیا کښې څو څو ځلی د ایمان په طرف بللی شوی وئ او څو څو ځلی مو کفر اختیار کړی ؤ نو اوس د هغه سزا وګالئ (برداشت کړئ) اوس هر قدر چې تاسی له خپلو ځانونو څخه بیزار او خپه یئ له همغه څخه زیات الله تعالیٰ له تاسی ناراضه او بیزاره دی.

## قَالُوا رَبَّنَا أَمَتَّنَا اثْنَتَيْنِ وَأَحْيَيْتَنَا اثْنَتَيْنِ

(نو) وبه وائی (دا کفار) ای ربه زمونږ مړه دی کړو مونږ دوه ځلی او ژوندی دی کړو مونږ دوه ځلی

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب لیکی «پخوا له دی نه تاسی خاوره وئ یا نطفه په دواړو تقدیرو سره مړه او بیځانه وئ. بیا په تاسی کښې سا ننوته نو ژوندی شوئ بیا مړه شوئ بیا به ژوندی راپاڅول کیږئ هم دغه دی دوه ژونده او دوه مرینی، کما قال الله تعالیٰ فی الرکوع (۳) من سورة البقرة ﴿ كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِاللَّهِ وَكُنْتُمْ أَمْوَاتًا فَأَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴾ آیت ۲۸ **وقیل غیر ذلک والاظهر هو هذا.**

## فَاعْتَرَفْنَا بِذُنُوبِنَا

پس قایل شو مونږ په ګناهونو خپلو

**تفسیر:** یعنی انکار به مو کوو چې وروسته له مرګه بیا ژوندون نشته. نه حساب دی نه کتاب، نه ثواب دی نه عقاب. نو ځکه پر ګناهونو او شرارتونو زړه‌ور او جری شوی وو. اوس مو ولید هم هغسی چې تا له ړومبنی موت څخه وروسته مونږ ته ژوندون راکړ او له عدم څخه دی مونږ وجود ته راوستو له وروستنی موت څخه وروسته هم تا مونږ سم د انبیاؤ له ارشاده سره بیا له قبورو څخه ژوندی راپاڅولو لکه چې نن د بعث بعد الموت هغه ګرد (تول) مناظر مونږ پخپلو سترګو سره وینو چې له هغه څخه مو انکار کوو او بی له دی نه بل څه چاره نه لرو چې پر خپلو هغو اغلاطو او خطاؤ اقرار او اعتراف وکړو.

فَهَلْ إِلَىٰ خُرُوجٍ مِّن سَبِيلٍ ⑪

پس آیا شته د وتلو (زمونږ ته له دغه دوزخه) کومه لاره !

**تفسیر:** یعني افسوس چې اوس حسب الظاهر له دې ځایه د خلاصیدلو او تښتیدلو هیڅ یوه چاره او لاره نه راښکاری ماسواء له دې نه لکه چې تا پخپل قدرت سره مونږ ته دوه ځلې موت او حیات راکړی دی دریم ځلې مو هم دنیا ته ولیږئ څو دا ځلې هلته صالحه اعمال وکړو او سره له ډیرو نیکیو بیرته درحاضر شو.

ذَٰلِكُم بِأَنَّهُۥٓ إِذَا دُعِىَ ٱللَّهُ وَحْدَهُۥ كَفَرْتُمْ ۖ وَإِن يُشْرَكْ بِهِۦ تُؤْمِنُوا۟ ۚ فَٱلْحُكْمُ لِلَّهِ ٱلْعَلِىِّ ٱلْكَبِيرِ ⑫

دغه (ابدی عذاب) تاسي ته په سبب د دې دی کله چې وبه باله شو الله یواځی (بی له خدایانو ستاسي) نو کفر به اختیار کړ تاسي او که شریکان به هم وبللی شول له الله سره نو ایمان به راوړ تاسي پس حکم خاص الله لره دی (چې هر څه کوی دغه الله) ډیر پورته دی (له شرکه) ډیر لوی دی.

**تفسیر:** یعني بیشکه اوس د دنیا په لوری د بیرته ورتګ هیڅ یو صورت نشته اوس تاسي د خپلو پخوانیو اعمالو سزاوی درواخلئ. ستاسي په نسبت د ابدی هلاکت دغه فیصله ځکه شوی ده چې تاسي د واحد الله او حقیقي معبود غږ ته غوږ کینښود او تل مو د ده له وحدانیت څخه انکار کوو. که له تاسي نه د کوم دروغ او باطل معبود په لوری بلنه کیده نو علی‌الفور به مو «آمنا و صدقنا» ویل او په هغه پسې به مو مندی وهلی نو له دغه وضعیت څخه ستاسي خوی او طبیعت او عادت اندازه کیدی شي که زر ځلې هم تاسي بیرته ستانه (واپس) کړل شئ بیا به تاسي په هم هغه کفر او شرک کښې اخته او مصروف کیږئ او پرته (علاوه) له طغیانه او عصیانه بل شي به له خپله ځانه سره نه راوړئ. پس نن ورځ ستاسي عادلانه او په ځای سزا هم دغه دائمی حبس دی. چې د هغه مرافعه او تمییز بل هیچیری نشی کیدی او له هغه څخه د نجات او خلاصی هیله (امید) او تمنا عبثه ده.

هُوَ ٱلَّذِى يُرِيكُمْ ءَايَٰتِهِۦ وَيُنَزِّلُ لَكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ رِزْقًا ۚ

وَمَا يَتَذَكَّرُ إِلَّا مَنْ يُنِيبُ ﴿١٣﴾

الله هغه ذات دی چی ښیی تاسی ته دلائل نښی (د قدرت) خپل او نازلوی تاسی ته له (طرفه) د آسمانه رزق روزی (باران چی سبب د روزی دی) او پند نه اخلی (په دغو دلائلو د قدرت) مگر هغه چی راگرځیدلی وی (له شرکه او معصیته توحید او طاعت ته)

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ د عظمت او وحدانیت دلائل او نښی په هر ځیز کښی ظاهری دی. انسان دی ښائی چی یوائځی پخپلی روزی او رزق کښی لږ غور او دقت وکړی او ودی گوری چی په څه وسائلو او وسائطو سره هغه وررسیږی حتیٰ چی د هغه سامان له آسمانه هم تهیه کیږی. بیا په نورو شیانو کښی هم د ده عقل او پوه رسیږی. لیکن که څوک هغه لوری ته له سره رجوع هم ونه کړی او له غور او فکر څخه کار وانخلی نو له کوم ځایه او په کومی وسیلی سره به پوه حاصله کړی شی.

فَادْعُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ ﴿١٤﴾

پس وبولئ تاسی الله په دی حال کښی چی خالص کوونکی اوسئ دغه (الله) ته (د) دین (له شرکه) او اگر که بد گڼی دغه کافران (دغه اخلاص ستاسی)

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ بندگانو ته ښائی چی له پوه او عقل څخه کار واخلی. او د واحد الله په طرف رجوع وکړی او هم هغه دی وبولی او عبادت دی وکړی، او د ده په بندگی کښی دی بل چا ته شرکت ور نه کړی بیشکه چی د مخلصو بندگانو د دغه موحدیت او بلا اشتراک د واحد احد الله د عبادت کولو څخه کفار او مشرکان خپه کیږی او خپله استکراه او تنفر تری ښکاروی چی دوی ولی نور گرد (تول) معبودان له منځه لری کړی دی او صرف واحد الله قبلوی او یوائځی د همغه قدوس الله په عبادت کښی مشاغلت لری. مگر پوخ او حقیقی موحد هم هغه دی چی د مشرکانو په مجمع کښی د توحید غږ پورته کړی او د هغوی د بد ویلو او خپگان څخه له سره اندیښنه او پروا ونه کړی.

رَفِيعُ الدَّرَجَاتِ ذُو الْعَرْشِ يُلْقِي الرُّوحَ مِنْ أَمْرِهِ عَلَىٰ مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ

(هم دغه الله) پورته کوونکی د درجو (د مؤمنانو) دی څیښتن (مالک) د عرش دی رالیږی روح (جبرئیل یا پتی خبری) په امر حکم خپل پر هغه چا چی اراده وفرمائی له بندګانو خپلو

**تفسیر:** له پټو خبرو څخه وحی مراد ده چی پر انبیاؤ علیهم السلام نازلیږی او د دوی د ورثه ؤ په وسیله نورو بندګانو ته هم رسیږی لکه چی د قیامت تر ورځی پوری به رسیږی.

لِيُنذِرَ يَوْمَ التَّلَاقِ ﴿١٥﴾

دپاره د دی چی وویروی (خلق) له ورځی د ملاقات (چی په کښی یو ځای کیږی خالق او مخلوق او نور)

**تفسیر:** یعنی په هغه ورځ کښی چی تول اولین او آخرین به سره یو ځای د پاک الله په حضور کښی حاضریږی او هر یو سری به د خپلو ښو یا د بدو اعمالو له بدل سره ملاقات کوی. یا ارواح له اجسادو، یا اعمال له عمالو یا مظلومان له ظلامو، یا عابدان له خپلو معبودانو سره ګوری.

يَوْمَ هُم بَارِزُونَ ۖ

په هغه ورځ کښی چی دوی به راښکاره وی (بهر راولاړ له قبورو)

**تفسیر:** یعنی له قبورو څخه به ووځی او په یوه داسی ډاګ سم صاف هوار میدان کښی به حاضریږی چی هلته به هیڅ غر او غونډی او نور حائل نه وی.

لَا يَخْفَىٰ عَلَى اللَّهِ مِنْهُمْ شَيْءٌ ۚ

پټ به نه وی پر الله له دوی نه هیڅ څیز

**تفسیر:** یعنی ښه وپوهیږئ چی د هغه احکم‌الحاکمین په دربار کښی حاضریدل دی چی له هغه څخه ستاسی هیڅ احوال پټ نه دی او ګرد (تول) ظاهری او باطنی اسرار او احوال ورته ښکاره او څرګند دی او د دوی ګرد (تول) اعمال به دوی ته وروړاندی کیږی او خپله جزاء مومی بیا به داسی وفرمائی الله جل جلاله پس له نفخی د صور

لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ۖ لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ ﴿١٦﴾

چا لره دی سلطنت (نو جواب فرمائی پخپله الله) نن ورځ خاص الله لره دی (سلطنت) چی یو دی ښه غالب قوی

**تفسیر:** یعنی په هغه ورځ کښی به تول وسائل او حجب (پردی) لری کیږی. په ظاهری او مجازی دول (طریقه) به هم د هیچا سلطنت او باچاهی نه وی پاتی او یواځی د هم هغه مالکالملکوت او صاحبالکبریاء والجبروت حکومت او سلطنت به دائم او قائم وی چی د ده په مقابل کښی تول زور او قوت او طاقت عاجز او ناتوانه مطیع او منقاد دی.

اَلْيَوْمَ تُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ ۗ لَا ظُلْمَ الْيَوْمَ ۗ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿١٧﴾ وَاَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْاٰزِفَةِ اِذِ الْقُلُوْبُ لَدَى الْحَنَاجِرِ كٰظِمِيْنَ ۚ

نن ورځ به جزاء ورکړه شی هر نفس ته په قدر د هم هغه عمل چی کړی ئی دی نشته هیڅ قدر ظلم نن ورځ، بیشکه چی الله ډیر ژر حساب کوونکی دی. او وویروه (ای محمده! دغه کفار له عذابه) د ورځی نژدی کله چی زړونه به په نزد د چنغړکو وی په دی حال کښی چی غم کوونکی (پوری راوړی) به وی (خاوندان د زړونو)

**تفسیر:** یعنی له ډیری ویری او خوف زړونه به ئی تړپیږی او تر ستونو پوری به پورته کیږی او خلق به په دواړو لاسونو سره هغه تینګ ونیسی او له دی نه به ویریږی چی چیری د دوی زړونه د دوی له تنفس سره یو ځای د باندی ونه وځی.

مَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ حَمِيْمٍ وَّلَا شَفِيْعٍ يُّطَاعُ ﴿١٨﴾

نه به وی ظالمانو ته (په قیامت کښی) هیڅوک دوست او نه کوم شفاعتګر چی خبره ئی ومنله شی

**تفسیر:** یعنی داسی کوم شفاعتګر به نه وی چی د هغه خبره به خامخا اوریدله کیږی، سپارښت

به هم هغه څوک کولی شي چې د الله تعالیٰ له طرفه مجاز او مأذون وی او د هغه انسان په حق کښې کیدی شي چې شفاعت د هغه دپاره غوره او پسند وی.

يَعۡلَمُ خَآئِنَةَ ٱلۡأَعۡيُنِ وَمَا تُخۡفِي ٱلصُّدُورُ ١٩ وَٱللَّهُ يَقۡضِي بِٱلۡحَقِّ

معلوم دی (الله) ته خیانت د سترګو او هغه نیات چې پټوی ئې سینې (زړونه) او الله حکم (فیصله) کوی په حقه (عدل) سره

**تفسیر:** یعنی له مخلوقاتو څخه خپلې سترګې وژغورې (وساتی) او په پټه او مخفی دول سره پر کوم یو شي نظر وغورځوی یا د سترګو په یوه کنج یا په غلا سره وګوری یا پخپل زړه کښې کوم نیت وکړی یا د کومې خبرې اراده یا خیال پخپل زړه کښې تیر کړی له دغو ګردو (ټولو) شیانو څخه پر تولو او پر هر یوه باندی الله تعالیٰ علیم او خبیر دی او فیصله ئې په عدل او انصاف سره کوی.

وَٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَقۡضُونَ بِشَيۡءٍۗ إِنَّ ٱللَّهَ
هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ٢٠

او هغه کسان چې بولی ئې دوی غیر له دغه (الله) حکم نشي کولی دوی په هیڅ څیز، بیشکه الله هم دی دی ښه اوریدونکی (د اقوالو) ښه لیدونکی (د اعمالو)

**تفسیر:** یعنی فیصله صادرول د هم هغه ذات کار کیدی شي چې ښه اوریدونکی ښه پوهیدونکی وی. ښه نو دغه بیځانه تیږی (ګټی) او بی روحه بتان چې تاسی هغوی ته خدای وایئ او په بندګی کښې ئې لګیا یئ څرنګه به فیصله وکړی شي بیا هغه څیز چې د فیصله کولو قوت او قدرت نه لری نو هغه څرنګه خدای کیدی شي؟

أَوَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ
كَانُواْ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَانُواْ هُمۡ أَشَدَّ مِنۡهُمۡ قُوَّةً وَءَاثَارًا فِي ٱلۡأَرۡضِ

آیا نه ګرځي (دغه مشرکان) په ځمکه (ملکونو) کښې پس چې وګوری دوی
چې څرنګه وو عاقبت آخره خاتمه د هغو کسانو چې وو پخوا له دغو
(مشرکانو) چې وو هغوی (پخوانی مکذبین) هم دوی ډیر سخت له دغو
(کفارو) څخه له جهته د قوت او آثار (چې پریښی ئې دی) په ځمکه کښې

**تفسیر:** یعنی ډیری کلکي او مضبوطي کلاوی، عالی شانه عمارتونه، او د مختلفو اقسامو یادګارونه.

فَأَخَذَهُمُ اللَّهُ بِذُنُوبِهِمْ وَمَا كَانَ لَهُم مِّنَ اللَّهِ مِن وَاقٍ ﴿٢١﴾

پس ونیول هلاک کړل دوی لره الله په سبب د ګناهونو د دوی، او نه وو دوی ته له (عذابه د) الله هیڅوک ساتونکی.

**تفسیر:** یعنی کله چې څوک مو له دنیوی عذاب څخه نشی بچ کولی نو له اخروی عذاب څخه مو څوک ژغورلی (بچ کولی) شی؟

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانَت تَّأْتِيهِمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ فَكَفَرُوا
فَأَخَذَهُمُ اللَّهُ إِنَّهُ قَوِيٌّ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿٢٢﴾

دغه (نیول او اهلاک د دوی) په سبب د دی وو چې بیشکه هغوی ته به راتلل
رسولان د دوی په دلائلو ښېنو ښکاره وو (د قدرت) پس کافران شول پس
ونیول دوی لره الله (هلاک ئې کړل) بیشکه چې دغه (الله) قوی ښه زورور
سختوونکی د عذاب دی.

**تفسیر:** یعنی تاسی هم د هغوی په شان د رسول الله په تکذیب کښې نشئ فلاح موندلی او بالاخر رسوا او هلاک کیږئ او قدوس الله به پخپل زور او قوت سره خپل رسول فاتح، غالب، مظفر او منصور ګرځوی. په هم دغه مناسبت الله اکرم شانه واعظم برهانه اوس د موسیٰ علیه السلام او د فرعون قصه دغسی بیان فرمائی

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِآيَاتِنَا وَسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿٢٣﴾

او خامخا په تحقیق لیږلی وو مونږ موسیٰ په آیاتونو دلائلو (د قدرت) خپل او په برهان سند ښکاره سره.

**تفسیر:** له «آیاتونو او دلائلو» ځنی ئی معجزات او له «برهان سند ښکاره» ښخه ئی ما سواء له معجزاتو نور قسمونه دلائل او براهین مراد فرمایلی دی یا دی له «آیات» ښخه تعلیمات او احکام او له «سلطان مبین» ځنی معجزات مراد واخیست شی یا به «سلطان مبین» د هغه قدسیه قوت او مخصوص ربانی تائید نوم وی چی د هغه آثار په انبیاوو کښی هر لیدونکی ته په ښکاره دول (طریقه) سره په نظر راځی والله اعلم.

اِلٰى فِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ وَقَارُوْنَ

طرف د (باچا د مصر) فرعون ته او هامان ته (چی وزیر ئی وو) او قارون ته (چی مصاحب ئی وو)

**تفسیر:** هامان د فرعون وزیر وو. قارون د بنی اسرائیلو ډیر لوی متمول او تاجر وو چی د موسیٰ علیه السلام پر خلاف د فرعون پر مرضی به ئی اقدامات کول پخوا له دی نه د ده قصه تیره شوی دی.

فَقَالُوْا سٰحِرٌ كَذَّابٌ ﴿٢٤﴾

پس وویل (دوی چی دا رسول) ساحر کوډګر دی دروغجن دی.

**تفسیر:** یعنی ساحر او کوډګر دی، د دغو معجزاتو په ښوولو کښی دروغجن دی د رسالت په دعوٰی کښی دغسی به ځینو د هغو ویلی وی او نورو به د دوی تصدیق کړی وی.

فَلَمَّا جَآءَهُمْ بِالْحَقِّ مِنْ عِنْدِنَا قَالُوا اقْتُلُوْٓا اَبْنَآءَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ وَاسْتَحْيُوْا نِسَآءَهُمْ ؕ

پس کله چی راغی (موسیٰ) دغو (قبطیانو) ته په حقه سره له نزده زمونږ وویل

(قبطیانو) چې ووژنئ تاسي ځامن د هغو (سبطیانو) چې ایمان ئې راوړی دی له موسیٰ سره او ژوندی پریږدئ تاسي ښځې (لونی) د دوی (خدمت ته)،

**تفسیر:** دغه حکم ئې دوهم ځلې د موسیٰ علیه السلام د تشریف راوړلو څخه وروسته ورکړ څو په دغه سره د بني اسرائیلو تذلیل او توهین وکړی او د دوی تعداد کم کړی او د دوی په زړونو کښې دغه خیال کینوی چې دغه ګرد (تول) مصائب پر مونږ د موسیٰ علیه السلام له سببه راغلي دي او په دغه علت د هغه ملګرتیا پریږدی او دی به پخپل دغه ویرولو او د تخویف په سیاست کښې بریالی (کامیاب) کیږی وروسته له دی نه دی رامعلوم چې پر دغو احکامو تعمیل او مداومت شوی دی که نه؟

وَمَا كَيۡدُ ٱلۡكَٰفِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَٰلٖ ۝٢٥

او نه دی کید مکر د کافرانو مګر په ګمراهي کښې

**تفسیر:** یعني له هسي مکرونو، فریبونو او تدابیرو څخه هیڅ نه کیږی. الله تعالیٰ له خپلو مخلصو بندګانو سره امداد او معاونت فرمائي. او د منکرینو ګردی (تولی) حیلی او پلمی (تدبیرونه) ناکامي او غلطي ثابتوی.

وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ ذَرُونِيٓ أَقۡتُلۡ مُوسَىٰ وَلۡيَدۡعُ رَبَّهُۥٓۚ

او وویل فرعون (عملي خپلي ته) پریږدئ (ای مشرانو) ما چې ووژنم موسیٰ او راودی بولي (موسیٰ) رب خپل (چې خلاص ئې کړی له ما)

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «فرعون وویل ما پریږدئ! ښائي چې د ده د سلطنت ارکانو به د موسیٰ د وژلو مشوره نه وی ورکړی او هغوی د ده د معجزاتو له لیدلو څخه متاثر شوی او ویریدلي وو. او له دی نه داریدل نه چې د موسیٰ رب زمونږ څخه انتقام واخلي. پخپله فرعون هم ویریدلي او سخت مرعوب او منفعل شوی وو لیکن خپل دغه خوف او بیم به ئې پتاوه او په خلقو کښې به ئې د خپل قوت او شجاعت او د انتهائي درجې شقاوت او بیحیائي د اظهار دپاره دغسي خبری کولې څو خلق وګڼي چې د فرعون په مخکښې د موسیٰ د وژلو په لاره کښې هیڅ یوه مانع او رادع نشته. او د فرعون د ارادی په مقابل کښې هیڅ یو قوت او طاقت نشي دریدلي».

إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يُبَدِّلَ دِينَكُمۡ أَوۡ أَن يُظۡهِرَ فِي ٱلۡأَرۡضِ ٱلۡفَسَادَ ﴿٢٦﴾

(وويل فرعون) بیشکه چې زه ویریږم چې بدل به کړي (موسیٰ) دین ستاسي (ای قبطیانو!) یا به ظاهر کړي (موسیٰ) په ځمکه (د مصر) کښې فساد (او مخالفت په منځ زمونږ کښې)

**تفسیر:** یعنی که موسیٰ علیه السلام ژوندی پریښود شی نو د دینی او دنیوی د دواړو قسمو د نقصان اندیښنه ده ممکن دی چې دی د خپل وعظ او تلقین په اثر ستاسی هغه مذهبی دود (رواج) او دستور در خراب کړی چې له پخوا راهیسی جریان او دوام لری یا د سازش او د نورو وسائلو جال په ځمکه کښې وغځوی او خور ئی کړی او په مملکت کښې انقلاب، تطور او بدامنی واچوی چې نتیجه به ئی داسی کیږی چې د تاسی (قبطیانو) حکومت به خاتمه وموی او سلطنت به د بنی اسرائیلو (سبطیانو) په لاس کښې ورشی.

وَقَالَ مُوسَىٰٓ إِنِّي عُذۡتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُم مِّن كُلِّ مُتَكَبِّرٖ

او وویل موسیٰ (قوم خپل ته) چې بیشکه زه پناه غواړم په رب خپل او په رب ستاسی له (شره د) هر متکبره (سرکشه)

**تفسیر:** کله چې حضرت موسیٰ علیه السلام ته د دغو مشورو خبر وررسید نو خپل قوم ته ئی وفرمایل چې زه له دغو ویرولو څخه له سره نه ویریږم او نه ئی پروا لرم. یواځی فرعون لا څه کوی که د دنیا ګرد (ټول) متکبرین او جبارین هم سره راټول شی خو بیا زما الله ما د دوی له شر څخه ساتی او هغه ماته کافی دی. ما خپل ځان یواځی د ده په پناه کښې ورکړی دی هم هغه زما حامی او مددګار دی کما قال الله تعالیٰ ﴿لَا تَخَافَآ إِنَّنِي مَعَكُمَآ أَسۡمَعُ وَأَرَىٰ﴾ جزء ١٦ (د طٰهٰ ٢ رکوع ٤٥ آیت ) نه وروسته د الله تعالیٰ له حمایته او امداده داسی اولوالعزم نبیان به څرنګه له یوه مغرور انسان څخه ویریږی نو ځکه موسیٰ علیه السلام وویل بیشکه زه پناه غواړم په رب خپل او په رب ستاسی له شره د هر متکبره سرکشه.

لَّا يُؤۡمِنُ بِيَوۡمِ ٱلۡحِسَابِ ﴿٢٧﴾

چې نه راوړی ایمان په ورځ د حساب.

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب لیکی «څوک چې په حساب او کتاب یقین او باور ولری نو هغه به

ځرنګه ظلم وکړی؟»

وَقَالَ رَجُلٌ مُّؤۡمِنٌ مِّنۡ اٰلِ فِرۡعَوۡنَ يَكۡتُمُ اِيۡمَانَهٗۤ اَتَقۡتُلُوۡنَ رَجُلًا اَنۡ يَّقُوۡلَ رَبِّىَ اللّٰهُ وَقَدۡ جَآءَكُمۡ بِالۡبَيِّنٰتِ مِنۡ رَّبِّكُمۡ‌ؕ وَاِنۡ يَّكُ كَاذِبًا فَعَلَيۡهِ كَذِبُهٗ‌ۚ وَاِنۡ يَّكُ صَادِقًا يُّصِبۡكُمۡ بَعۡضُ الَّذِىۡ يَعِدُكُمۡ‌ؕ

او وویل یو سړی مؤمن له خپلوانو د فرعون څخه چی پټاوه ده ایمان خپل (له نورو قبطیانو) آیا وژنئ تاسی داسی یو سړی چی وائی رب زما الله دی او حال دا چی په تحقیق راغلی دی تاسی ته په ښکاره دلائلو له (طرفه) د رب ستاسی، او که چیری وی (موسیٰ) دروغجن نو پس په هم ده ده (جزاء د) دروغو د ده او که چیری وی (موسیٰ) صادق رښتینی نو وبه رسیږی تاسی ته ځینی د هغه عذاب چی وعده کوی (موسیٰ د هغه) له تاسی سره.

**تفسیر:** یو مؤمن سړی چی هغه تر دغه وخته پوری خپل ایمان له فرعونه او د ده له قومه مخفی ساتلی وو د «ذرونی اقتل موسیٰ» په جواب کښی ئی داسی وویل «آیا ته د داسی یو سړی په ناحقی وینی تویولو پسی خپله ملا تړی چی هغه علاوه له دغه اظهاره بله هیڅ ګناه نه لری چی زما رب یواځی الله دی او دی ولی یواځی یوه الله ته خپل رب وائی؟ حال دا چی دی د خپلی دغی دعوی په تصدیق کښی ښکاره دلائل هم لری چی تاته ئی درښوولی دی او ته د هغه وژلو ته دومره ضرورت هم نه لری. بلکه امکان لری چی د هغه وژل تاته مضر هم واقع شی فرض ئی کړه که دی پخپلی دغی دعوی کښی دروغجن هم ثابت شی نو پر دغسی لویو دروغو ئی خامخا الله تعالیٰ هلاک یا رسوا کوی د الله تعالیٰ عادت داسی نه دی چی هغه داسی کاذب ته دومره موقع او فرصت ورکړی چی ترقی وکړی یا بری ومومی، د دی دپاره چی د دنیا خلق د تل دپاره پری تیر نه وځی او له دغه التباس او اشتباه څخه ووځی یقیناً یوه نه یوه ورځ د ده دغه کلاڼین ویلی کیدونکی دی او دغسی حالات به پیښیږی چی دنیا به په علانیه ډول (طریقه) سره د ده رسوائی، ناکامی او د دروغو او د پلمو (تدبیرونو) تماشا او ننداره کوی، او تاته له سره د دغی خبری ضرورت نه دی پاتی چی هرومرو (خامخا) ته دی خپل لاس د ده په وینو سره سور کړی. که په واقع سره دی صادق او رښتینی وی نو له هغه دنیوی او اخروی عذاب څخه به چی دی خپل مخالفین او مکذبین ویروی څه نه څه برخه علی‌الیقین تاته به هم دررسیدونکی وی، لهٰذا په ړومبنی تقدیر سره د ده په وژلو کښی تلوار کول عبث او بیکاره دی. او په دوهم تقدیر خو بیخی د نقصان او خسران موجب دی» حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «یعنی که

دروغجن دی نو هم هغه الله ئی سزا پر دروغ ویونکی ورنازلوی. او امکان لری چی رښتین وی نو ته دی فکر وکړه!»

**تنبیه:** دغه تقریر په هغه تقدیر سره دی کله چی د کوم مفتری کذب صریحاً ظاهر شوی نه وی. که د نبوت د مدعی کذب او افتراء په دلائلو او براهینو سره ثابت شی نو بلا شبهه واجب القتل دی. په دغه زمانه کښی چی زمونږ د سیدالمرسلین خاتم النبیین توب په قطعیه وو دلائلو سره ثابت شوی دی که کوم سړی د نبوت مدعی شی نو کله چی دغه مدعی د یوی قطعی الثبوتی عقیدی تکذیب کوی لهٰذا د دغه مدعی النبوت په متعلق به د هیڅ قسم تامل، تردد، امهال او انتظار ځای نه وی.

إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ كَذَّابٌ ﴿٢٨﴾

بیشکه الله سمه لاره نه ښیی هر هغه چا ته چی هغه مسرف له حده تیریدونکی وی ډیر دروغجن وی

**تفسیر:** یعنی که بالفرض موسیٰ علیه السلام دروغجن وی نو له سره به الله تعالیٰ ورته داسی سمه لاره نه ښووله، او هغه به داسی متوالیاً او مسلسلاً خپلی معجزی نشوی راښوولی. او په بری او کامیابی کښی به ئی دغومره ترقی او پرمخ تګ نه کوو. او که ته داسی دروغجن ئی چی عمداً یوه رښتین او صادق نبی ته د دروغو نسبت کوی نو بالاخر به دی الله تعالیٰ ذلیل، پاتی او ناکاموی.

يَٰقَوْمِ لَكُمُ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ظَٰهِرِينَ فِي الْأَرْضِ فَمَن يَنصُرُنَا مِنۢ بَأْسِ اللَّهِ إِن جَآءَنَا ۚ

ای قومه زما تاسی لره دی ملک باچاهی نن ورځ په دغه حال کښی چی غالب ئی په ځمکه (د مصر کښی پر سبطیانو) پس څوک به نصرت وکړی له مونږ سره له عذابه د الله که راشی (دا عذاب) مونږ لره (په سبب د قتل د موسیٰ؟ بلکه ناصر نشته نو مه ئی وژنئ!)

**تفسیر:** یعنی پر خپلو تسلیحاتو، تجهیزاتو، وسائلو، وسائطو او لاؤ لښکر مه مغروریږئ! اګر که نن تاسو د دغه شان او شوکت او دج او سلطنت خاوندان یئ که صبا مو الله تعالیٰ پخپل عذاب محاط او محصور کړی نو کوم یو سړی به تاسو ته نجات او پناه درکولی شی! او دغه ستاسی

گرد (تول) ساز او سامان به هم داسی ویجاړ او وران پاتی کیږی.

قَالَ فِرْعَوْنُ مَآ أُرِيكُمْ إِلَّا مَآ أَرَىٰ وَمَآ أَهْدِيكُمْ إِلَّا سَبِيلَ ٱلرَّشَادِ ﴿٢٩﴾

وویل فرعون چی زه نه ښیم تاسی ته مگر هم هغه (مصلحت) چی وینم زه (په وژلو د موسیٰ ﷺ) او نه ښیم زه تاسی ته (ای قبطیانو!) مگر لاره د نیکی (او د مصلحت)

**تفسیر:** ستا په دغه تقریر سره زما خیالاتو تبدیل نه دی موندلی هر هغه څیز چی زما په نزد خیر او مصلحت وو هم هغه می تاسو ته وویل او غواړم چی تاسی په ښه شان سره ځانونه پری پوه کړئ زما په خیال د بهتری او صواب هم هغه لاره چی پکښی امنیت، راحت او نجات مرکوز دی هم دغه لاره ده چی د دغه سړی خبرو ته دی سم د لاسه خاتمه ورکړه شی.

وَقَالَ ٱلَّذِيٓ ءَامَنَ يَٰقَوْمِ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيْكُم مِّثْلَ يَوْمِ ٱلْأَحْزَابِ ﴿٣٠﴾ مِثْلَ دَأْبِ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ وَٱلَّذِينَ مِنۢ بَعْدِهِمْ ۚ وَمَا ٱللَّهُ يُرِيدُ ظُلْمًا لِّلْعِبَادِ ﴿٣١﴾

او وویل هغه (سړی) چی ایمان ئی راوړی وو ای قومه زما بیشکه زه ویریږم پر تاسی (په تکذیب د موسیٰ ﷺ) په مثل د (عذاب) د ورځی د ډلو (د پخوانیو په سبب د تکذیب د انبیاؤ) په مثل د حال د قوم د نوح (چی ډوب شول) او (په شان) د عادیانو (چی په باد صرصر هلاک شول) او (په شان د) ثمودیانو (چی په چغه مړه شول) او هغه کفار چی وروسته له دوی نه وو، او نه دی الله چی اراده لری د ظلم پر بندگانو خپلو

**تفسیر:** یعنی که تاسی هم داسی پر تکذیب او عداوت ټینگ ولاړ اوسئ نو سخته اندیښنه ده چی تاسی هم چیری هم هغه عذاب ونه گورئ چی پخوانیو مکذبینو اقوامو د خپلو انبیاؤ د تکذیب په مقابل کښی لیدلی دی. په یاد ئی ولرئ چی د الله تعالیٰ په دربار کښی ظلم، تیری او بی

انصافی بیخی نشته که پر دغسی سختو جرائمو تاسی ته یا نورو اقوامو ته سخته سزا درکړی او سپیره او تباه مو کړی نو دغه اهلاک به د عین‌العدل او نفس‌الانصاف تقاضا وی هغه به کوم یو حکومت وی چی د خپلو سفراوو قتل او رسوائی ته زیری زیری ګوری؟ او له قاتلینو او معاندینو څخه د دوی بدل او انتقام نه اخلی؟

وَيٰقَوْمِ اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ يَوْمَ التَّنَادِ ﴿٣٢﴾

او ای قومه زما بیشکه زه ویریږم پر تاسی له (عذابه د) ورځی د رابللو (په چغو سره یو بل ته)

**تفسیر:** عموماً مفسرین له «یوم التناد» د (ناری سوری بلنی ورځ) قیامت مراد اخلی ځکه چی په محشر کښی د جمع کیدلو او حساب ورکولو دپاره د هر چا بلنه کیږی او پرله پسی د خلقو نومونه یادیږی او اهل الجنت به اهل النار او بالعکس او اهل الاعراف پخپلو منځونو کښی یو پر بل به ناری وهی څو بالاخر داسی یو غیبی غږ واوراوه شی! «**یا أهل الجنة خلود لاموت ویا أهل النار خلود لا موت**» کما ورد فی الحدیث. لیکن حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه له «یوم التناد» څخه هغه ورځ مراد کړی ده چی په هغی کښی پر فرعونیانو عذاب نازل شو لکه چی لیکی «د نارو سورو او بلنو ورځ پر هغوی راغله په هغه ورځ کښی چی د قلزم په بحیره کښی ډوب شول او د دغو ډوبیدلو په وخت کښی به دوی یو بل ته ناری او سوری وهلی او په ژړا او انګولا لګیا وو ښائی دغه وضعیت به د هغه مؤمن سری له کشفه معلوم شوی وی یا به ئی له خپل قیاسه داسی ویلی وی چی پر هر قوم هم داسی عذاب نازلیږی.

يَوْمَ تُوَلُّوْنَ مُدْبِرِيْنَ ۚ

هغه ورځ چی وګرځئ تاسی شا اړوونکی (موقف ته په طرف د دوزخ)،

**تفسیر:** یعنی په محشر کښی به په شا اړولو سره د دوزخ په طرف په منډو منډو سره شړلی او تښتولی شئ یا د عذاب د نزول په وخت کښی به د تښتیدلو دپاره ناکامه زیار او کوښښ کوئ.

مَا لَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ عَاصِمٍ ۚ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ﴿٣٣﴾

نو نه به وی تاسو ته له (عذابه) د الله هیڅوک ساتونکی او هر هغه چی ګمراه ئی کړی الله نو نه به وی ده ته هیڅوک هادی لار ښوونکی.

**تفسير:** يعني تاسو ته ګرد (تول) هسک (اوچت) او تيټ په پوره ډول (طريقه) سره ښوولي شوي دي که سره له هغه تاسي پری نه پوهيږئ يا ئې نه منئ نو ښه وپوهيږئ! چې ستاسي د عناد او کږو تللو له شامته الله تعالیٰ داسي اراده فرمايلي ده چې تاسي په هم هغه ستاسي خوښي کړی غلطي او ګمراهي کښي پريږدی بيا د داسي اشخاصو د پوهيدلو او منلو څه توقع کيدی شي؟.

وَلَقَدْ جَآءَكُمْ يُوسُفُ مِن قَبْلُ بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَمَا زِلْتُمْ فِى شَكٍّ مِّمَّا جَآءَكُم بِهِۦ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَن يَبْعَثَ ٱللَّهُ مِنۢ بَعْدِهِۦ رَسُولًا ۚ

او خامخا په تحقيق راغلی وو تاسي ته يوسف پخوا له (موسیٰ څخه) په ښکاره وو دلائلو (د قدرت) پس هميشه به وئ تاسي په شک (ګمان) کښي له هغه (حکمه) چې راغلی ؤ دی تاسي ته په هغه سره، تر هغه پوری کله چې وفات شو (يوسف) نو وويل تاسي چې له سره به راونه ليږی الله وروسته له دغه (يوسفه) هيڅ رسول.

**تفسير:** يعني څنګه! خبره پای (آخر) ته ورسيده! نه دغه رسول وو نه وروسته له دی نه بل کوم رسول راتلونکی دی ګواکی بيخي ئې د رسالت له سلسلې څخه انکار وکړ. ليکن حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليکی «د حضرت يوسف عليه السلام په ژوندانه مصريان د ده په نبوت قائل نه شول او د يوسف عليه السلام له مرګه وروسته کله چې د مصر انتظام خراب شو نو دوی وويل چې د يوسف قدم پر دغه ښار ځومره مبارک وو دغسي بل نبی به په مستقبل کښي نه راځي يا هغه انکار يا دغه اقرار هم دغه اسراف او زيات ويل دی» د مؤمن سړی چې نوم ئې «خربيل» او د فرعون ترورځي يا بل کوم خپلوان کيده غرض دا وو چې د نعمت قدر له زوال څخه وروسته پيدا کيږی تاسي فيالحال د موسیٰ عليه السلام قدر نه پيژنئ خو بيا به ارمان وکړئ.

كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ مُّرْتَابٌ ﴿٣٤﴾ ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِىٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ بِغَيْرِ سُلْطَٰنٍ أَتَىٰهُمْ ۖ كَبُرَ مَقْتًا عِندَ ٱللَّهِ وَعِندَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ۚ

هم داسی (لکه دغه اضلال) گمراه کوی الله (په کنده د سرکشي کښی) هر هغه لره چی مسرف له حده تیریدونکی وی شک راوړونکی وی (په دین د الله کښی) هغه (مسرفین او مرتابین) چی جګړی کوی (له انبیاؤ سره) په (ابطال) د دلائلو (د قدرت) د الله کښی بی له کوم برهان علمی سنده چی راغلی وی دوی ته، ډیر لوی دی (دغه جدال) له جهته د بغض په نزد د الله او په نزد د هغو کسانو چی ایمان ئی راوړی دی

**تفسیر:** یعنی بی له عقلیه او نقلیه حجت څخه د الله تعالیٰ په خبرو کښی جګړی کوی او شبهی غورځوی له دی نه به بل لوی زیادت او بیباکی څه وی؟ نو الله تعالیٰ او د ده ایماندار بندګان له دغو خلقو څخه زیات نارضاء او بیزاره وی چی دغه د دوی د انتهائی ملعونیت سبب دی.

كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ﴿٣٥﴾

هم داسی (لکه دغه اضلال) مهر وهي الله (د کفر او شقاوت) پر هر زړه د متکبر (سرکش) ډیر جبر کوونکی

**تفسیر:** هغه خلق چی د الله تعالیٰ په مخ کښی له ډیر غرور څخه خپله غاړه ښکته نه کړی او د انبیاؤ د ارشاداتو په مقابل کښی خپل اطاعت او فرمان منل ښکاره نه کړی نو بالاخر الله تعالیٰ د دوی پر زړونو داسی مهر لګوی چی بیا له سره د قبول الحق او نفوذ الخیر ځای او ګنجایش په هغه کښی نه پاتی کیږی.

وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَٰهَٰمَٰنُ ٱبْنِ لِى صَرْحًا لَّعَلِّىٓ أَبْلُغُ ٱلْأَسْبَٰبَ ﴿٣٦﴾
أَسْبَٰبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ فَأَطَّلِعَ إِلَىٰٓ إِلَٰهِ مُوسَىٰ

او وویل فرعون ای هامان (زما وزیره) جوړه کړه ماته یوه مانی ډیره لوړه اوچته ښائی ورسیږم لارو ته (په دغو ختلو سره) لارو د آسمانونو ته پس چی زه له لری څخه وګورم الله د موسیٰ ته (چی آیا شته که نشته؟)

**تفسیر:** دا د دغه ملعون انتهائی بی شرمی او بیباکی وه. ښائی چی ده به له حضرت موسیٰ علیه السلام څخه د الله تعالیٰ علویه صفات او نور محامد اوریدلی وی او د هغه په اثر به ئی پخپل زړه کښی داسی تاکلی (مقرر کړی) وی چی د موسیٰ الله پر آسمان کښی اوسیږی نو د هغه په نسبت

ئی دغه استهزاء او تمسخر شروع کړ. ربښتیا ده «د میړی مرګ چی راشی د وزرو خاوند شی» د «قصص» په سورت کښی په دغه مورد کښی تقریر کړی شوی دی.

وَاِنِّیْ لَاَظُنُّهٗ کَاذِبًا ؕ

او بیشکه زه ګمان کوم پر دغه (موسیٰ) د دروغجن (په دغه دعوی کښی چی خدای یو دی)

**تفسیر:** یعنی د رسالت په دعوی هم، او په دغی دعوی کښی هم چی په توله دنیا کښی ماسواء له هم هغه یوه واحد احد الله څخه بل هیڅوک حقیقی معبود نشته. ماته خو ماسواء له خپل ځانه بل هیڅ یو رب په نظر نه راځی کما قال فی جزء ۲۰ الرکوع (٤) آیت ۳۸ من سورة القصص ﴿مَا عَلِمْتُ لَکُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَیْرِیْ﴾

وَکَذٰلِكَ زُیِّنَ لِفِرْعَوْنَ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ وَصُدَّ عَنِ السَّبِیْلِ ؕ

او هم داسی (لکه ښائست د دغی وینا) ښائسته کړی شوی وه فرعون ته بدی د عمل د ده او منع کړی شوی ؤ دی له سمی لاری (د هدایت څخه)،

**تفسیر:** د بد کار کولو په وخت کښی د انسان پوه او سد (هوش) د ده له سره ځی او په داسی مضحکه راوړونکیو حرکاتو لګیا او مشغولیږی چی وروسته له هغه د هدایت او پر سمه لاره باندی د راتګ هیڅ یوه چاره او لاره نه پاتی کیږی هم دغسی د فرعون حال هم شو.

وَمَا کَیْدُ فِرْعَوْنَ اِلَّا فِیْ تَبَابٍ ع ﴿۳۷﴾

او نه وو دغه کید مکر د فرعون (په جوړولو د دغی مانی کښی) مګر په زیان کاری هلاکوالی کښی وو

**تفسیر:** یعنی د فرعون هومره جرګی، مشوری، تدابیر، چل، پلمی (تدبیرونه) او نور چی ؤ هغه ګرد (تول) خوشی او بی حقیقته وو. ده پخپله د خپلی تباهی دپاره اقدامات وکړل او موسیٰ علیه السلام ته ئی هیڅ ضرر ونه شو رسولی.

وَقَالَ الَّذِیْٓ اٰمَنَ یٰقَوْمِ اتَّبِعُوْنِ اَهْدِکُمْ سَبِیْلَ الرَّشَادِ ج ﴿۳۸﴾

او وویل هغه (سړی) چې ایمان ئې راوړی وو ای قومه زما متابعت وکړئ زما چې وښیم تاسی ته لاره د هدایت (او صواب).

**تفسیر:** کله چې فرعون ویلی ؤ ﴿ وَمَآ أَهۡدِيكُمۡ إِلَّا سَبِيلَ ٱلرَّشَادِ ﴾ د هغه په جواب کښې مؤمن سړی داسی وویل چې «سبیل‌الرشاد د نیکی او بهتری لاره» هغه نه ده چې فرعون ئې تجویز کوی بلکه تاسی پر ما پسی راځئ! ځو د فایدی او بهتری لاره وموميء!.

يَٰقَوۡمِ إِنَّمَا هَٰذِهِ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا مَتَٰعٞ وَإِنَّ ٱلۡأٓخِرَةَ هِيَ دَارُ ٱلۡقَرَارِ ٣٩

ای قومه زما بیشکه هم دا خبره ده چې دغه ژوندون لږ خسیس یوه متاع (ګټه (فائده) لره) ده او بیشکه آخرت هم هغه دی کور د قراری (بی زواله)

**تفسیر:** یعنی په فانی او زائل ژوندون او دغو ځو ورځنیو عیش او عشرت او میلو او چرچو کښې مه شاغل او مه غافلیږئ! او تل د آخرت په فکر او ذکر کښې مشغول اوسئ او مه ئې هیروئ! دغه دنیوی ژوندون په هر دول (طریقه) سره چې وی ښه یا خراب پای (آخر) ته رسیږی او خاتمه مومی او وروسته له هغه داسی یو ابدی حیات شروع کیږی چې هغه له سره انجام او خاتمه نه لری. عقلاؤ او پوهانو لره لازم دی چې په دغه آنی فانی ژوندون کښې هغه دائمی او باقی حیات ته تهیه او ترتیبات ونیسی! که نه تل تر تله به په مصائبو او تکالیفو کښې اخته کیږی.

مَنۡ عَمِلَ سَيِّئَةٗ فَلَا يُجۡزَىٰٓ إِلَّا مِثۡلَهَاۖ وَمَنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ يُرۡزَقُونَ فِيهَا بِغَيۡرِ حِسَابٖ ٤٠

هر څوک چې وکړی بد کار پس جزا نه ورکوله کیږی (هغه ته) مګر په قدر د هم هغی بدی او هر څوک چې وکړی نیک کار له نارینه ؤ وی یا له ښځو وی حال دا چې دی مؤمن وی پس دغه (صالحان مؤمنان) ننه به وځی په جنت کښې رزق روزی به ورکوله کیږی (دوی ته) په دغه جنت کښې بی حسابه.

**تفسیر:** په دغه سره د اخروی ژوندون لړ څه تفصیل ښوولی شوی دی چې اخروی حیات څرنګه ښه کیدی شی معلوم شو چې هلته ایمان او صالح عمل په کار دی د مال او متاع هیڅ قدر او قیمت هلته نشته او دا هم ظاهر شو چې د الله تعالیٰ رحمت د ده پر غضب غالب دی. عاقلانو ته ښائی چې دغه طلائی فرصت او موقع له خپل لاسه ونه باسی.

وَيٰقَوۡمِ مَا لِيۡۤ اَدۡعُوۡكُمۡ اِلَى النَّجٰوةِ وَتَدۡعُوۡنَنِيۡۤ اِلَى النَّارِؕ ﴿٤١﴾

او ای قومه زما څه دی ما لره چې بولم تاسی په طرف د نجات (او خلاصی) او بولئ تاسی ما په طرف د اور (د دوزخ).

**تفسیر:** یعنی زما او ستاسی معامله هم سره عجیبه ده زه غواړم چې تاسی د ایمان پر لاره روان کړم. او د الله تعالیٰ له عذابه مو وژغورم (وساتم) او ستاسی کوښښ دا دی چې ما هم له خپلو ځانونو سره په دوزخ کښې اړتاو کړئ له یوه جانبه داسی دوستی او خیر غوښتنه له بل جانبه داسی دښمنی او بده غوښتنه.

تَدۡعُوۡنَنِيۡ لِاَكۡفُرَ بِاللّٰهِ وَاُشۡرِكَ بِهٖ مَا لَيۡسَ لِيۡ بِهٖ عِلۡمٌ

بولئ تاسی ما دپاره د دی چې کفر اختیار کړم په الله پوری او چې شریک ونیسم له دغه (الله) سره هغه (څیز) چې نشته ماته په (ربوبیت د) هغه هیڅ علم

**تفسیر:** یعنی ستاسی د کوښښ حاصل دا دی چې زه معاذ الله له واحد الله څخه انکار وکړم د ده او د ده د انبیاؤ خبری ونه منم او د ناپوهانو جاهلانو په شان هغه شیان خدای وبولم چې د دوی الوهیت په هیڅ یوه دلیل او علمی اصولو سره هم نه دی ثابت. نه زه پر دغه خبر یم چې د څه لامله (له وجی) دغسی شیانو ته دوی خدای وائی بلکه زه پر دغه ښه پوهیږم چې د هسی اقدام په خلاف قطعیه دلائل قائم دی.

وَّاَنَا اَدۡعُوۡكُمۡ اِلَى الۡعَزِيۡزِ الۡغَفَّارِ ﴿٤٢﴾

حال دا چې زه بولم تاسی هغه (الله) ته چې ښه غالب قوی دی (په انفاذ د احکامو) ښه مغفرت کوونکی (د خطیاتو) دی.

**تفسير:** يعنى زما منشاء دا ده چې په هيڅ شان ستاسى سرونه د هغه واحد الله له درشله لرى نشى او تل مو سرونه د هغې دروازى په مخکښې شکته وى چې نهايت زبردست هم دى او ډير زيات د خطاؤ ښښونکى هم دى او که مجرم ونيسى نو هيڅوک د هغه ژغورونکى (بچ کوونکى) او خلاصوونکى هم نشته دى د هم دى خبرى وړ (لايق) او مستحق دى چې هر انسان د ده په مقابل کښې سره له خوفه او رجاء او ويرى خپل د عبوديت سر شکته کړى. په ياد ئې ولرئ چې زه د هغه پاک الله په پناه کښې راغلى يم چې تاسى د هغه په طرف بولم.

لَا جَرَمَ أَنَّمَا تَدْعُونَنِي إِلَيْهِ لَيْسَ لَهُ دَعْوَةٌ فِي الدُّنْيَا وَلَا فِي الْآخِرَةِ

حقه او رښتيا (دغه) خبره ده بيشکه هغه (معبود) چې بولئ تاسى ما (عبادت د) هغه ته نشته هغه ته (قوت د) بلنى (نه) په دنيا کښې او نه په آخرت کښې (چې شفاعت وکړى د چا)

**تفسير:** يعنى ما سواء الله څخه بل هيڅ شى داسى نه دى چې په دنيا يا عقبا کښې د ډيرى ادنیٰ نفعې او ضرر مالک وى، نو د مخلوقاتو بندګى او بلنه که جهل او حماقت نه دى نو بل څه دى؟ ﴿وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنْ يَدْعُوا مِنْ دُونِ اللَّهِ مَنْ لَا يَسْتَجِيبُ لَهُ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَهُمْ عَنْ دُعَائِهِمْ غَافِلُونَ وَإِذَا حُشِرَ النَّاسُ كَانُوا لَهُمْ أَعْدَاءً وَكَانُوا بِعِبَادَتِهِمْ كَافِرِينَ﴾ جزء ٢٦ (د احقاف (١) رکوع) ٥-٦ آيت آخر داسى عاجزو او ناتوانو شيانو ته انسان په څه نيت او مقصد تعظيم او تکريم کوى او بولى ئې؟ د ننداری وړ (مستحق) څيز دا دى چې په دغو کښې ډير شيان هغه دى چې دوى پخپله د خپل ځان په طرف دعوت نه ورکوى بلکه د دعوت ورکولو او ويلو قدرت او قوت هم نه لرى.

وَأَنَّ مَرَدَّنَا إِلَى اللَّهِ وَأَنَّ الْمُسْرِفِينَ هُمْ أَصْحَابُ النَّارِ ﴿٤٣﴾

او بيشکه چې ورتله زمونږ (د تولو) خاص الله ته دى او بيشکه چې مسرفان له حده تيريدونکى (مشرکان) هم دوى ملګرى د اور (د دوزخ) دى (چې تل پکښې اوسيږى).

**تفسير:** يعنى د کار په انجام کښې د هر ډول (طريقه) تګ او راتګ رجوع او بيرته ورتله د واحد الله په طرف دى. کله چې انسان هلته ورسيږى د خپلو ګردو (ټولو) تجاوزاتو او زيادتو نتيجه به ورڅرګنديږى. راوښيه! چې له دى نه بل زيادت به څه وى؟ چې عاجز مخلوق ته د خالق درجه ورکړه شى.

کله چی فرعونیانو قصد د قتل د هغه مؤمن وکړ نو ده ورته داسی وویل چی

فَسَتَذْكُرُونَ مَا أَقُولُ لَكُمْ

پس ژر ده چی یاد به کړئ تاسو (په وخت د لیدلو د عذاب کښی هغه) چی زه ئی وایم اوس تاسی ته

**تفسیر:** یعنی کله چی وروسته له دی نه د خپلی تیری، تجاوز او زیادت د خوند څکوونکی یئ نو په هغه وخت کښی به زما دغه پند او نصیحت یادوئ، چی هو! د الله تعالیٰ یوه بنده مونږ ته دغه ګردی (تولی) خبری ښوولی وی او رښتیا ئی فرمایلی وی، لیکن د دغه وخت یادونه، ارمان، پښیمانتیا او افسوس څه فائده رسوی؟ بلکه بیخی مفید نه واقع کیږی.

وَأُفَوِّضُ أَمْرِي إِلَى اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ بَصِيرٌ بِالْعِبَادِ ﴿٤٤﴾

او سپارم زه هر کار خپل الله ته بیشکه چی الله ښه لیدونکی دی (د تولو اقوالو او افعالو) د بندګانو

**تفسیر:** یعنی ما د الله تعالیٰ حجت درتمام کړی دی او د نصیحت خبری مو درپوهولی دی. که تاسو ئی نه منئ نو زه له هغه سره څه کار او غرض نه لرم. اوس زه خپل ځان بیخی پاک الله ته سپارم، او پری پوره اعتماد لرم. که تاسی زما ربړولو (تکلیفولو) او ضرر رسولو پسی لوېږئ نو هم هغه الله تعالیٰ زما حامی او ناصر دی، او تول بندګان د ده تر کتنی لاندی دی. هغه ستا او زما دواړو معامله ګوری. د هیچا هیڅ یو حرکت له ده څخه پټ نه دی. د یوه قانت مؤمن کار دا دی چی له خپلی امکانی سعی او کوشش ایستلو څخه وروسته نتیجه الله تعالیٰ ته وسپاری.

فَوَقَاهُ اللَّهُ سَيِّئَاتِ مَا مَكَرُوا ۖ وَحَاقَ بِآلِ فِرْعَوْنَ سُوءُ الْعَذَابِ ﴿٤٥﴾

پس وساته دغه (موسیٰ یا مؤمن سړی) لره الله له سختو (عذابونو) د هغو چی مکر کړی وو دوی او (بالعکس) چاپیر شو په آل د فرعون (سره د فرعون) بد عذاب (د غرق په دنیا او بد عذاب د غرق په عقبیٰ کښی).

**تفسیر:** یعنی د حق او باطل د دغه کشمکش آخری نتیجه داسی شوه چی الله تعالیٰ حضرت موسیٰ علیه السلام او د ده ملګرو ته سره له هغه مؤمن سړی چی له آل د فرعون څخه وو د

فرعونیانو له شره او کیده نجات ورکړ، او محفوظ ئی وساته او د فرعونیانو هیڅ یو مکر او فریب ته ئی د اجراء موقع ورنه کړه، بلکه د دوی هغه مکر او فریب ئی پخپله پر هم دوی واړاوه نو هغه کسان چی د حق منونکیو تعاقب ته وتلی ؤ ووژلی شول او قوم د قلزم په بحیره کښی مغروق او تر اوبو لاندی محروق شول.

## اَلنَّارُ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَّعَشِيًّا ۚ

اور (د دوزخ) وړاندی کاوه شی (دا کفار) پر دی (اور) هر صبا او هر بیگا

**تفسیر:** یعنی د دوزخ ځای چی په هغه کښی به د قیامت په ورځ ننه ایستلی کیږی هر صبا او بیگا به دوی ته ورښوول کیږی څو د نمونی په ډول د هغه راتلونکی عذاب څه خوند تل وڅکی دغه د برزخ د عالم احوال شو له احادیثو څخه ثابت دی چی هم داسی د هر کافر په مخکښی دوزخ او د هر مسلمان په مخکښی جنت صبا او بیگا وروړاندی کیږی.
**تنبیه:** له دغه آیت څخه یواځی د فرعونیانو د معذب کیدلو حال په عالم البرزخ کښی ثابت شوی ؤ وروسته له دی نه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته معلوم کړی شو چی ټول کفار بلکه د مؤمنینو عصات هم په برزخ کښی معذب کیږی (اعاذناالله منه) کما ورد فی الاحادیث الصحیحة. او له ځینو آثارو ځنی معلومیږی هم هغسی چی د جنتیانو له منځه د شهداؤ ارواح د «طیور خضر» په حواصلو کښی داخلیږی او د جنت په سیل کښی هر صبا او بیگا مشغولیږی هم هغسی د دوزخیانو له منځه د فرعونیانو ارواح د «طیور سود» په حواصلو کښی داخلیږی او د دوزخ په آه او بکا واویلا کښی هر صبا او بیگا کړیږی او سوځیږی او له یوی خوا بلی خوا ته تویږی وهی البته له ارواحو سره د اجسادو اقامت په دوزخ یا په جنت کښی په آخرت کښی کیږی که صحیح وی نو د فرعونیانو په متعلق ﴿ اَلنَّارُ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَّعَشِيًّا ﴾ او د عامو دوزخیانو په نسبت د «**عرض علیه مقعده بالغداة والعشی**» د حدیث د الفاظو تفاوت ښائی په هم دغی بناء سره وی والله تعالیٰ اعلم.

## وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ ۗ اَدْخِلُوْٓا اٰلَ فِرْعَوْنَ اَشَدَّ الْعَذَابِ ﴿٤٦﴾ وَاِذْ يَتَحَآجُّوْنَ فِى النَّارِ فَيَقُوْلُ الضُّعَفٰٓؤُا لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا اِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ اَنْتُمْ مُّغْنُوْنَ عَنَّا نَصِيْبًا مِّنَ النَّارِ ﴿٤٧﴾

او په هغه ورځ کښی چی قائم شی قیامت، (نو وبه ویلی شی له جانبه د الله

ملائکو ته) ننباسئ تاسي آل د فرعون (سره له فرعون) په ډیر سخت عذاب کښې (له عذابه د برزخ) او (یاد کړه) هغه چې جګړه به کوی (دوزخیان د دوزخ) په اور کښې پس وبه وائی ضعیفان (کشران تابعان) هغو کسانو ته چې سرکشان (او مشران متبوعان وو) بیشکه وو مونږ تاسی ته تابعان پس آیا اوس یئ تاسی (ای متبوعانو!) دفع کوونکی له مونږ څخه کومه برخه له اوره (د دوزخ)

**تفسیر:** یعنی په دنیا کښې مو پر مونږ خپل اطاعت او اتباع کوله چې د هغه لامله (له وجی) مونږ نیولی شوی یو اوس دلته خو مونږ ته څه ګټه (فائده) او نفع راورسوئ! آخر مشرانو ته لازم دی چې د خپلو کشرانو لږ خبر او احوال واخلی آیا ګورئ چې نن مونږ په څرنګه سخت عذاب او مصیبت کښې اخته یو! آیا ستاسی له لاسه نه دی پوره چې له دغو مصائبو کومه برخه له مونږ څخه لری او سپکه کړئ؟

قَالَ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا اِنَّا كُلٌّ فِيْهَآ اِنَّ اللّٰهَ قَدْ حَكَمَ بَيْنَ الْعِبَادِ ﴿۴۸﴾

وائی هغه کسان چې تکبر ئی کړی ؤ (سرکش او متبوع وو چې څنګه به دفع کوو عذاب) بیشکه مونږ ټول په دوزخ کښې یو بیشکه الله په تحقیق حکم کړی دی په منځ د بندګانو کښې (داسی چې هر څوک ئی خپلو خپلو هغو ځایونو ته چې له دوی سره وړ (مستحق) او لائق ؤ ولیږل، مستحقان د جنت، جنت ته، او لائقان د دوزخ دوزخ ته)

**تفسیر:** یعنی هغه کسان چې خپل ځانونه ئی په دنیا کښې لوی ګڼل اوس داسی جواب ورکوی چې مونږ او تاسی دواړه په دغه مصیبت کښې اخته او مبتلا یو. الله تعالیٰ زمونږ د هر یوه په نسبت سم د مونږ له جرمه سره خپله فیصله اورولی ده چې د ده دغه صادر حکم بیخی قاطع او لایتغیر دی. او د دغی خبری موقع نه ده پاتی چې یو د بل په کار ورشی. مونږ یواځی خپل مصیبت زغملی شو. کله چې مونږ خپل دغه درونډ مصیبت نشو سپکولی نو بیا به تاسی ته څه ګټه (فائده) او منفعت دررسولی شو.

وَقَالَ الَّذِيْنَ فِي النَّارِ لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ ادْعُوْا رَبَّكُمْ يُخَفِّفْ عَنَّا يَوْمًا مِّنَ الْعَذَابِ ﴿۴۹﴾

او وبه وائی هغه کسان (چی پراته دی) په اور کښی خزانچیانو متصرفانو د دوزخ ته چی دعاء وکړئ (زمونږ دپاره) رب خپل ته چی سپک کړی له مونږه یوه ورځ له عذابه (چی لږ څه په ارام شو).

**تفسیر:** یعنی کله چی له خپلو دغو مشرانو څخه بیهیلی او مایوس شی نو له هغو پرښتو څخه به داسی غوښتنه کوی چی د دوزخ په انتظام مسلطی دی چی خیر تاسی خپل رب ته ووایئ چی اقلا د یوی ورځی له مخی خو زمونږ په دغه عذاب کښی څه تقلیل، تخفیف او تعطیل وفرمائی څو مونږ لږ څه په ارام شو.

قَالُوٓا أَوَلَمۡ تَكُ تَأۡتِيكُمۡ رُسُلُكُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِۖ قَالُواْ بَلَىٰۚ قَالُواْ فَٱدۡعُواْۗ وَمَا دُعَٰٓؤُاْ ٱلۡكَٰفِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَٰلٍ ٥٠

وبه وائی (متصرفان د دوزخ دوزخیانو ته) آیا نه ؤ راغلی تاسی ته رسولان ستاسی په دلائلو ښکاره ؤ (د قدرت) وائی (ولی نه ؤ راغلی) بلکه راغلی ؤ نو وبه وائی (متصرفان د دوزخ) پس وبولئ تاسی (پخپله الله) او نه دی دعاء د کافرانو مګر په ګمراهی کښی (چی هیڅ فائده ورته نه رسوی).

**تفسیر:** یعنی په هغه وخت کښی مو د هغه خبره ونه منله او د انجام فکر مو ونه کړ چی په هغه سره څه ګټه (فائده) تاسی ته دررسیده اوس مو موقع له لاسه وتلی ده اوس په هیڅ دول سعی، کوښښ، تملق او سپارښت سره څه کار نشی کیدی اوس هم دلته پراته وسئ! او په ژړا او انګولا سره اوقات تیروئ! او راز راز (قسم قسم) ربړونه (تکلیفونه) او عذابونه ګالئ (برداشت کوئ)! مونږ نه په داسی معاملاتو کښی ګوتی وهلی شو او نه د چا په سپارښت کښی خپله خوله خوځولی شو او نه ستاسی له دغی ژړا او انګولا څخه څه فائده تاسی ته رسیدی شی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «د دوزخ پرښتی به وائی چی سپارښت کول زمونږ کار نه دی مونږ خو د عذاب ورکولو لپاره مقرری یو او سپارښت کول د رسولانو کار دی حال دا چی تاسی له رسولانو سره مخالفت کوو».

**تنبیه:** له دغه آیت څخه معلوم شو چی په آخرت کښی د کفارو په ادعیه وو کښی به هیڅ تاثیر نه وی باقی که په دنیا کښی الله تعالیٰ کفارو ته د دوی د دعاء په اثر څه شی ورکړی هغه بیله خبره ده لکه چی ابلیس ته ئی تر قیامته پوری مهلت ورکړی دی.

إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا

بیشکه چی مونږ خامخا مدد کوو له رسولانو خپلو سره او (مدد کوو له) هغو کسانو سره چی ایمان ئی راوړی دی په ژوندانه لږ خسیس کښې (په حجته او په ظفر او په انتقام له اعداؤ د دوی)

**تفسیر:** یعنی په دنیا کښې د مرسلانو خبرو ته وقعت او وقار ورکوی او د هر مقصد دپاره چی انبیاء الله ودریږی د الله تعالیٰ په امداد او نصرت سره په هغه کښې مظفر او کامیاب کیږی د حق منونکیو اعمال او ایثار بیخی نه ضائع کیږی اگر که په منځ کښې دیر هسک (اوچت) او تیت واقع او د امتحانانو مواقع وروړاندی شی مگر بالاخر حزب الله فائزالمرام گرځی. په علمی حیثیت او په حجت او برهان سره خو تل دوی فائزان او بریالیان دی لیکن مادی فتحه او ظاهری عزت او رفعت هم بالاخر د هم دوی په برخه کیږی. د صداقت دښمن هیڅکیری معزز او پتمن نشی پاتی کیدی. د اعداؤ الله علو او عروج تش د کتو ځک او د سوډا د ځوښ په شان دی بالاخر دوی د قانتینو مؤمنینو په مقابل کښې شکته، خوار او ذلیل کیږی او الله تعالیٰ څو له دوی نه د خپلو اولیاؤ انتقام وانه خلی نه ئی پریږدی. لیکن واضح دی وی چی هغه وعده چی په دغه آیت کښې له مؤمنینو سره کړی شوی ده په هغه تقدیر سره ایفاء او انجام مومی چی مؤمنین هم په حقیقی اوصافو سره مؤمنین او د سید المرسلین صحیح متبعین وی ﴿ وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴾ (د آل عمران ١٤ رکوع ١٣٩ آیت ) د مؤمنینو خصال په پاک قرآن کښې ځای په ځای مذکور دی شائی چی هر مسلمان د خپل ایمان او ایقان زر د دغه محک په تیږه (گټه) ومږی! او د هغه حسن او قبحه، سره او ناسره ځانته معلوم کړی!.

وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَادُ ﴿٥١﴾

او په هغه ورځ چی وبه دریږی شاهدان (له ملائکو، انبیاؤ مؤمنانو، پر منکرانو باندی)

**تفسیر:** یعنی د حشر په میدان کښې کله چی اولین او آخرین گرد سره تولیږی حق سبحانه و تعالیٰ به پخپل فضل علی رؤوس الاشهاد د دوی سرفرازی عزت او رفعت ښکار کوی. په دنیا کښې لږ څه شبهه پاتی کیږی او التباس هم واقع کیږی لیکن هلته به لږ څه ابهام او التباس باقی نه پاتی کیږی.

يَوْمَ لَا يَنفَعُ الظَّالِمِينَ مَعْذِرَتُهُمْ وَلَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوءُ الدَّارِ ﴿٥٢﴾

په هغې ورځې کښې به هيڅ نفع نه رسوى ظالمانو ته معذرت عذرونه د دوى او شته دوى ته لعنت لرېوالى له رحمته او شته دوى ته ناکاره کور ( د دوزخ).

**تفسير:** يعنى له دوى سره به هيڅ مدد او مرسته او لاس نيوى نه کيږى د مقبولينو په مقابل کښې ئې دغه د مطرودينو انجام بيان وفرمايه.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوسَى الْهُدٰى وَاَوْرَثْنَا بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ الْكِتٰبَ ﴿٥٣﴾ هُدًى وَّذِكْرٰى لِاُولِى الْاَلْبَابِ ﴿٥٤﴾

او خامخا په تحقيق ورکړى وو مونږ موسىٰ ته (امور د) هدايت (توريت) او په ميراث مو ورکړ بنى اسرائيل اولادى د يعقوب ته کتاب (د توريت) په دى حال کښې چې هدايت سمه لاره ښوونکى ؤ او ذکر پند (او پوهه) وو دپاره د خاوندانو د خالصو عقلونو.

**تفسير:** يعنى په دنيا کښې وګوره چې فرعون او د ده قوم سره د دومره زور او قوت د الله تعالىٰ د دښمنى له سببه څرنګه سپيره هلاک او برباد شول او د موسىٰ عليه السلام په برکت او لار ښوونه د بنى اسرائيلو مظلوم او کمزور قوم څنګه ترقى او ودانى وموندله؟ او د دغه عظيم الشان کتاب (توريت) وارث وګرځاوه شو چې د دنيا د عقلاؤ دپاره ئې د هدايت د ديوى په شان کار ورکوو.

فَاصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِبْكَارِ ﴿٥٥﴾

پس صبر وکړه (اى محمده! په ايذاء د کفارو) بيشکه چې وعده د الله حقه ده (په نصرت د انبياؤ، په اهلاک د اعداؤ) او مغفرت وغواړه دپاره د ګناه (د امت) خپل (له الله) او تسبيح وايه سره له ثناء د رب خپل هم په آخره د ورځې کښې او (هم) په اوله د ورځې کښې (يعنى تل تسبيح تحميد ووايه!)

**تفسير:** يعنى اى محمده! تاسى هم داده او متسلى اوسئ هغه وعده چې له تاسى سره کړى شوى ده هغه هرومرو (خامخا) پوره کيدونکى ده. الله قدوس په دواړو دارينو کښې تاسى او ستاسى په

طفیل ستاسی ګردو (تولو) متبعینو ته عزت او سرلوړی عطاء فرمائی. ولی دغه خبره ضروری ده چی د الله تعالیٰ د خوښی او رضاء حاصلولو دپاره پر هر قسم شدائدو او نوائبو صبر وکړئ او له هر چا څخه په هره درجه چی د تقصیر امکان وی له الله تعالیٰ څخه د هغه ښښنه او معافی وغواړئ! او همیشه صبا او بیګا د خپل رب د تسبیح او تحمید قولاً او فعلاً ورد او عادت ولرئ! په ظاهر او باطن کښی د الله تعالیٰ له یاده غافل نشئ بیا د الله تعالیٰ امداد او مرسته (مدد) یقینی ده. په دغه سره ئی رسول الله مبارک مخاطب ګرځولی دی او بالوسیله ګرد (تول) محمدی امت ته ئی آوروی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه ارشاد فرمائی چی «حضرت رسول صلی الله علیه وسلم به په هره ورځ کښی سل ځلی استغفار فرمایه. د هر بنده تقصیر د ده له درجی سره موافق دی. نو ځکه هر چا سره استغفار یو ضروری شغل او کار دی».

---

إِنَّ الَّذِينَ يُجَادِلُونَ فِيٓ ءَايَٰتِ اللَّهِ بِغَيْرِ سُلْطَٰنٍ أَتَىٰهُمْ إِن فِى صُدُورِهِمْ إِلَّا كِبْرٌ مَّا هُم بِبَٰلِغِيهِ

---

بیشکه هغه کسان چی مجادله جګړه کوی په (بطلان) د آیتونو د الله بی له کوم برهان علمی سنده چی راغلی (ښکاره شوی) وی دوی ته (بله هیڅ خبره نشته) بیشکه چی نه دی په سینو (زړونو) د دوی کښی مګر کبر او سرکشی ده چی نه دی دوی رسیدونکی هغه (برهان) ته

---

**تفسیر:** یعنی هغه کسان چی خامخا د الله تعالیٰ د توحید په دلائلو او په سماویه وو کتابونو او د انبیاؤ الله په معجزاتو او هدایاتو کښی خامخا جګړی او مناقشی کوی، او بی سنده خبری وائی او د حق غږ بی اثره ګرځوی او بطلان ئی غواړی، حال دا چی د دوی په لاس کوم حجت، دلیل او برهان هم نشته. او نه فی‌الواقع په هغو ښکاره‌ؤ شیانو کښی د څه شک او شبهی موقع شته. او یواځی، تکبر، غرور، لوئی د دغی خبری مانع ده چی حق ته غاړه کیږدی او د نبی متابعت وکړی. دوی ډیر خپل ځان لوی او پورته ګڼی او غواړی چی له نبی څخه پورته وی یا اقلا د نبی په مخ کښی خپل سرونه ښکته نه کړی. لیکن په یاد ئی ولرئ چی دوی له سره په دغه مقصد کښی بری نه مومی، او هرومرو (خامخا) مجبور دی چی د نبی په مخکښی د اطاعت سر ښکته کړی، که نه ډیر سخت ذلیل او رسوا کیدونکی دی.

---

فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ ۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ ﴿٥٦﴾

---

پس پناه ونیسه په الله پوری (له شره د دوی) بیشکه دغه (الله) هم دی دی ښه

اوریدونکی (د اقوالو) ښه لیدونکی (د افعالو نو جزاء به ورکړی دوی ته)

**تفسیر:** یعنی له الله تعالیٰ څخه پناه وغواړه چی هغه د دغو مجادلینو له دغو خیالاتو څخه نجات درکړی او د دوی له شره دی وساتی. وروسته له دی نه د ځینو هغو مسائلو تحقیق دی چی په هغو کښی خلق سره جګړی کوی. مثلاً بعث بعدالموت وروسته له مرګه بیا ژوندی راپاڅیدل چی دغه امر دوی محال ګڼی یا د الله تعالیٰ له توحیده ئی انکار کوو.

لَخَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ اَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٥٧﴾

خامخا پیدا کول د آسمانونو او د ځمکی ډیر لوی دی له پیدایښته د خلقو ولیکن اکثر د خلقو نه پوهیږی (په آسانی د دغه دوهم پیدایښت لکه د اول).

**تفسیر:** یعنی ظاهراً له مادی حیثیته د آسمان او د ځمکی د عظمت او جسامت په مخکښی د انسان حقیقت څه دی؟ حال دا چی دغه خبره مشرکین هم منی چی د آسمان او د ځمکی پیدا کوونکی هم دغه واحد قدوس الله دی. بیا هغه لوی ذات چی د دغومره لویو مخلوقاتو پیدا کوونکی وی آیا هغه ته د انسانانو اول ځلی یا دوهم ځلی پیدا کول کوم سخت یا مشکل کار دی؟ د تعجب ځای دی چی پر دغسی غټو غټو خبرو هم ډیر خلق نه پوهیږی.

وَمَا يَسْتَوِى الْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ ۙ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَلَا الْمُسِیْٓءُ ؕ قَلِيْلًا مَّا تَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٥٨﴾

او نه سره برابریږی (یو) ړوند (غافل جاهل) او بل کتونکی (ذاکر ـ عالم) او (هم داسی نه برابریږی سره) هغه کسان چی ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه) او نه هغه چی بدکار دی، ډیر لږ پند اخلئ تاسی (ای خلقو).

**تفسیر:** یعنی یو داسی ړوند چی د حق سمه صافه لاره نشی لیدلی او یو لیدونکی چی په نهایت بصیرت سره صراطالمستقیم کتلی شی او پری پوهیږی آیا دغه دواړه سره برابر کیدی شی یا د

یوه نیکوکار مؤمن او د بدکار کافر انجام سره یو شانی کیدی شی؟ که داسی نه وی نو ضرور دی چی یوه داسی ورځ به وی چی د دغو دواړو په منځ کښی به فرق او تفاوت ښکاره شی او د دغو دواړو د علمونو او د عملونو د ثمراتو نتائج به ډیر اکمل صورت سره ظاهر او ښکاره شی مګر افسوس چی تاسی دومره هم نه پوهیږئ؟

إِنَّ السَّاعَةَ لَآتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيهَا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٥٩﴾ وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ ط

بیشکه چی قیامت خامخا راتلونکی دی نشته هیڅ شک په (راتللو د) دغه (قیامت) کښی ولیکن زیاتره د خلقو ایمان نه راوړی (په قیامت او تصدیق ئی نه کوی) او فرمائی رب ستاسی (ای بندګانو زما) تاسی وبولئ ما چی قبلوم تاسی ته (دعاء ستاسی)

**تفسیر:** یعنی ماته عبادت وکړئ! چی د هغه بدل او جزاء به درکرم او له ما څخه وغواړئ! چی ستاسی دغه غوښتنه به توی او تشه نه ځی.

إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ﴿٦٠﴾ ع

بیشکه هغه کسان چی تکبر (سرکشی) کوی له عبادت څخه زما ژر ده چی ننه به وځی دوی په دوزخ کښی په دی حال کښی چی خوار او سپک وی

**تفسیر:** د بندګی شرط له الله تعالیٰ څخه غوښتنه ده، نه غوښتل تکبر او غرور دی او له دی آیت څخه معلومیږی چی الله تعالیٰ ته د بندګانو غږ او دعاء وررسیږی دغه خبره خو بیشکه برحقه ده مګر د دی مطلب داسی نه دی چی د هر بنده هره دعاء قبلوی یا ښائی چی قبوله ئی کړی یعنی هر هغه شی چی غواړی هم هغه شی ورته ورکړی. نه! د ده د دعا اجابت څو اقسامه او انواع لری چی په احادیثو کښی بیان کړی شوی دی. د کوم شی ورکړه او عطاء د الله تعالیٰ پر مشیت موقوفه او د ده د حکمت تابع ده کما قال فی الرکوع الرابع ٤١ آیت من سورة الانعام ﴿ فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُونَ إِلَيْهِ إِنْ شَاءَ ﴾ په هر حال د بندګانو کار د الله له درباره هم دغه غوښتنه ده او دغه غوښتنه فی حد ذاته یو عبادت بلکه د عبادت ماغزه او لبالباب دی «الدعاء مخ العبادة».

اَللّٰهُ الَّذِىْ جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ لِتَسْكُنُوْا فِيْهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ؕ

الله هغه (ذات) دی چی گرځولی ئی ده تاسی ته شپه لپاره د دی چی آرامی وکړئ تاسی په هغی کښی او (گرځولی ئی ده) ورځ ليدلو ته

**تفسير:** د شپی په مستريحه يخه او تياره فضاء او د هوسائی (آرام) او د راحت په هوا کښی تول خلق د استراحت خوب کوی هر کله چی ورځ شی نو په نوی نشاط او تازه قوت سره پاځيږی او د لمر په رنا (رڼا) کښی پخپلو کارو او چارو کښی بوخت (مشغول) او لگيا کيږی په دغه وخت کښی د تگ او راتگ ليدل کار کول او د نورو اعمالو دپاره د مصنوعی رنا (رڼا) بيخی ضرورت نه وی.

اِنَّ اللّٰهَ لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿٦١﴾

بيشکه الله خامخا څيښتن (خاوند) د فضل دی پر انسانانو وليکن زياتری د انسانانو شکر نه وباسی (په دغو نعماؤ د الله)

**تفسير:** يعنی د حقيقی منعم پيژندل هم دغه ؤ چی په قول او فعل او په ځان او زړه ئی شکر اداء کولی خو ډير خلق د شکر ايستلو په ځای شرک اختياروی.

ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ خَالِقُ كُلِّ شَیْءٍ ۘ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۫ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ﴿٦٢﴾

دغه (ذات) تاسی ته الله دی رب پالونکی ستاسی چی خالق پيدا کوونکی د هر څيز دی نشته هيڅوک لائق د عبادت مگر هم دی دی يواځی پس کوم طرف ته گرځولی شوی يئ تاسی (له عبادت د ده)

**تفسير:** يعنی د شپی او د ورځی گرد (تول) نعمتونه د الله تعالیٰ له طرفه منئ نو ښائی چی بندگی هم همغه ته وکړئ! وروسته د دغه مقام له رسيدلو بيا تاسی ولی بی لاری کيږئ چی حقيقی مالک يو ذات وی او عبادت وکړی شی د بل چا.

كَذٰلِكَ يُؤْفَكُ الَّذِيْنَ كَانُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ يَجْحَدُوْنَ ﴿٦٣﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ جَعَلَ
لَكُمُ الْاَرْضَ قَرَارًا وَّالسَّمَآءَ بِنَآءً وَّصَوَّرَكُمْ فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ وَرَزَقَكُمْ مِّنَ
الطَّيِّبٰتِ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ ۚۖ فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٦٤﴾

هم داسی (لکه چې گرځولی شوی دی قوم ستا) گرځولی کیږی (له حقه) هغه کسان چې ؤ له آیتونو د الله به ئی انکار کوو الله هغه (ذات) دی چې گرځولی ئی ده تاسی ته ځمکه ځای د قرار (چې پری گزران او معاش کوئ) او (گرځولی ئی دی تاسی ته) آسمان چت (د قبې په شان) او صورتونه ئی ترلی دی ستاسی پس ډیر ښائسته جوړ کړه صورتونه ستاسی او روزی ئی درکړی ده تاسی ته له طیباتو پاکیزه وو (لذتناکو شیانو) دغه (خالق مصور رازق) الله دی رب پالونکی ستاسی پس ډیر برکتی (ډیر پورته دی شان) د الله چې رب پالونکی د تولو عالمیانو دی.

**تفسیر:** یعنی له گردو (تولو) ساکښانو (جاندارو) څخه د انسان صورت ښه، بهتر او ښکلی او د ده روزی ئی پاکه صافه گرځولی ده.

هُوَ الْحَيُّ

هم دی ژوندی دی تل په یو حال باقی قائم کامل تدبیر والا

**تفسیر:** چې له هیڅ یوه حیثیته او جهته له سره فناء او موت نه پری طاری کیږی او نه طاری کیدی شی او ظاهر دی کله چې د الله تعالیٰ حیات ذاتی او دائمی دی نو د ده د حیات گرد (تول) لوازم ذاتی او دائمی دی.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَادْعُوْهُ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ؕ اَلْحَمْدُ
لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٦٥﴾

نشته بل هیڅوک لائق د عبادت مگر هم دی دی یواځې پس وبولی هم دی په دی حال چې خالص کوونکی یئ تاسی خاص دغه (الله) لره (د) دین (له

شرکه) ټوله ثناء ده خاص الله لره چې رب پالونکی د ټولو عالمیانو دی.

**تفسیر:** یعني ګرد (ټول) کمالات، محامد، محاسن د حیات د وجود تابع دي. هغه چې علی‌الاطلاق حي دی هم دی د عبادت وړ (لایق) او مستحق دی او د ګردو (ټولو) کمالاتو مالک دی ځکه په «هوالحی» پسې وروسته ئې «الحمد لله رب العالمین» وفرمایل لکه چې په پخوانی آیت کښې ئې د نعمتونو له ذکر څخه وروسته «فتبارک الله رب العٰلمین» فرمایلی ؤ. له ځینو اسلافو څخه منقول دی چې وروسته له «لا إله الا الله» څخه ښائي «الحمد لله رب العٰلمین» وویل شي د هغه ماخذ هم دا آیت دی.

قُلْ إِنِّي نُهِيتُ أَنْ أَعْبُدَ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ لَمَّا جَاءَنِيَ الْبَيِّنَاتُ مِنْ رَبِّي وَأُمِرْتُ أَنْ أُسْلِمَ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٦٦﴾

ووایه (ای محمده دوی ته) بیشکه زه منع کړی شوی یم له دی نه چې عبادت وکړم د هغو (بتانو) چې بولئ ئې تاسې غیر له الله کله چې راغلل ماته ښکاره دلیلونه (د توحید) له (جانبه د) رب پالونکی زما او امر حکم کړی شوی دی پر ما چې غاړه کیږدم (تابع شم) رب پالونکی د (تمامو) عالمیانو ته

**تفسیر:** یعني وروسته د قدرت د دغو ښکاره‌ؤ دلائلو له لیدلو څخه آیا دغه حق او مناسب دی چې انسان پاک واحد الله ته د عبودیت او اخلاص سجده ونه کړي او مخصوصاً ورته ایل، مطیع او تابع نشي او احکام ئې له زړه ونه مني.

هُوَ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ تُرَابٍ

الله هغه (ذات) دی چې (اول) ئې پیدا کړی دی (نیکه) ستاسې له خاورو نه

**تفسیر:** یعني ستاسې پلار آدم، یا تاسې مو په داسې شان له خاورو څخه پیدا کړئ. هغه نطفه چې تاسې تری پیدا کیږئ د هغو ماکولاتو او مشروباتو خلاصه ده چې له ځمکې څخه پیدا کیږي.

ثُمَّ مِنْ نُطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ

بیا ئی (پیدا کړه اولاده د آدم) له نطفې (اوبو د منی) بیا له کلکی توتی د وینو

**تفسیر:** یعنی بنی آدم اصلاً د اوبو له څاڅکی د منی له قطری څخه مخلوق دی، چی وروسته ترلی وینه کیږی او د حیات نور مدارج پری کوی.

ثُمَّ يُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوٓا أَشُدَّكُمْ ثُمَّ لِتَكُونُوا شُيُوخًا ۚ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ مِن قَبْلُ ۖ وَلِتَبْلُغُوٓا أَجَلًا مُّسَمًّى

بیا راوباسی تاسی (له ارحامو د میندو) اطفال واړه (بیا تربیت کوی ستاسی) دپاره د دی چی ورسیږئ تاسی منتها د قوت خپل ته بیا (ژوندی ساتی تاسی) دپاره د دی چی شئ تاسی زاړه (بی قوته بی‌مجاله) او ځینی له تاسی هغه دی چی مړه کول شی پخوا له دی (بلوغه) او (ساتی مو) دپاره د دی چی ورسیږئ تاسی تر هغی نیټی په نامه کړی شوی پوری (چی وخت د مرګ دی)

**تفسیر:** یعنی له وړوکیتوبه ځلمی کیږئ او له ځلمیتوبه زوړتوب ته رسیږئ او ځینی سری پخوا له ځلمیتوبه یا زوړتوبه مری. په هر حال ګرد (ټول) تر یوه ټاکلی (مقرر کړی) معین میعاد او لیکلی شوی وعدی پوری رسیږی. له موت او حشر څخه هیڅوک نه دی خلاص او نه تری مستثنیٰ کیدی شی. ﴿ كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ۚ وَيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ ﴾

وَلَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٦٧﴾

او دپاره د دی چی تاسی عقل ورکړئ (په دلائلو د وحدانیت او قدرت د الله او په بعث بعد الموت)

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «یعنی ښه فکر او دقت وکړئ چی دومره احوال او ادوار پر تاسی تیر شوی دی ممکن چی یو بل حال او دوره هم پر تاسی تیره شی چی وروسته له مرګه بیا ژوندی راپاڅیدل دی نو هغه تاسی ولی مشکل او محال ګڼئ؟»

هُوَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ ۖ فَإِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ
كُن فَيَكُونُ ﴿٦٨﴾

(الله) هم هغه (ذات) دى چى ژوندى كول كوى او مړه كول كوى پس هر كله چى اراده حكم وكړى د يوه كار پس بيشكه هم دا خبره ده چى وائى ورته چى (موجود) شه پس هغه موجود شي (بى له مهلته).

**تفسير:** يعنى د ده كامل قدرت او د «كن فيكون» د شان په مقابل دغه څه سختى او اشكال لرى چى وروسته له مرګه مو بيا ژوندى كړى؟

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يُجَادِلُونَ فِي آيَاتِ اللَّهِ أَنَّىٰ يُصْرَفُونَ ﴿٦٩﴾
الَّذِينَ كَذَّبُوا بِالْكِتَابِ وَبِمَا أَرْسَلْنَا بِهِ رُسُلَنَا ۖ فَسَوْفَ
يَعْلَمُونَ ﴿٧٠﴾ إِذِ الْأَغْلَالُ فِي أَعْنَاقِهِمْ وَالسَّلَاسِلُ

آيا نه وينى ته هغه كسان چى مجادله جګړه (او نزاع) كوى په آيتونو (قرآن) د الله كښى پس كوم طرف ته ګرځولى شي دوى له تصديقه د هغو. هغه (كسان) چى تكذيب ئى كړى دى په دغه كتاب (قرآن) او په هغو (شيانو) چى رالیږلی مو دى په هغو سره رسولان (پخوانى) خپل پس ژر ده چى پوه به شي دوى (چى د دغه تكذيب بده نتيجه كيږى؟) كله چى وى به (د اور) غاړكۍ په غاړو د دوى كښى او ځنځيرونه به هم وى (په پښو د دوى)

**تفسير:** د ځنځير يو سر به په غاړه پورى نښتى وى او بل سر به ئى د پرښتو په لاسو كښى وى او په دغه دول (طريقه) دوى د مجرمانو او قيديانو په شان راوستل كيږى.

يُسْحَبُونَ ﴿٧١﴾ فِي الْحَمِيمِ ثُمَّ فِي النَّارِ يُسْجَرُونَ ﴿٧٢﴾

چې راښکلی کیږی به دوی په اوبو ډیرو تودو کښې بیا به په اور (د دوزخ) کښې سوځول وریتول شي دوی (او اور به له داخله او له خارجه هغوی راچاپیر کړی).

**تفسیر:** یعنی په دوزخ کښې به کله په ایشیدلو ډیرو سوځوونکیو اوبو سره او کله به په اور سره عذاب ورکول کیږی (اعاذنا الله منهما).

ثُمَّ قِيلَ لَهُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ تُشْرِكُونَ ﴿٧٣﴾ مِن دُونِ اللَّهِ ۖ

بیا به وویل شي دوی ته چې چیرته دی هغه (بتان) چې وئ تاسی چې شریکول به مو (له الله سره په عبادت کښې) بغیر له الله (چې اوس خلاص کړی تاسی له عذابه).

**تفسیر:** یعنی په دغه وخت به له دوی څخنی هیڅ یو په کار نه ورځی. که مو له لاسه پوره وی او توانیږئ نو هغوی خپل مدد ته راوبولئ!.

قَالُوا ضَلُّوا عَنَّا

نو وبه وائی (کفار) چې ورک شول له مونږ څخه (هغه معبودان زمونږ)

**تفسیر:** یعنی له مونږ څخه خطا او ورک او مونږ ترې تیر شو. ښائی په دغه وخت کښې به عابدین او معبودین سره بیلول شي یا به د «ضلواعنا» مطلب داسی وی چې اګر که موجود دی مګر کله له دوی نه کومه فائده نه رسیږی نو د دوی وجود او عدم سره برابر دی.

بَل لَّمْ نَكُن نَّدْعُوا مِن قَبْلُ شَيْئًا ۚ

بلکه ګویا نه وو مونږ چې بلل به مو (په عبادت سره دغه بتان) پخوا له دی نه هیڅ شی

**تفسیر:** اکثرو مفسرینو د دی مطلب داسی اخیستی دی په دنیا کښې مونږ هغو کسانو ته چې بلنه کوله اوس راښکاره شوه چې هغوی په واقع کښې هیڅ شی نه ؤ. ګواکی د حسرت او افسوس په دول (طریقه) به دغو الفاظو سره پر خپلی غلطی اعتراف کوی لیکن د حضرت شاه

صاحب د کلام حاصل دا دی چی مشرکین ړومبی منکران شوی وو. چی مونږ له سره له تا سره شریک نه دی درولی اوس ویریدلی د دوی له خولی څخه به دغه الفاظ وځی چی «ضلواعنا» چی په دغه سره به د شریک درولو اعتراف کوی. بیا لږ څه خپل ځانونه سنبالوی او بیا به انکار کوی چی مونږ له الله څخه ماسواء بل شی له سره نه دی بللی.

---

كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٧٤﴾

---

هم داسی (په شان د دغو مجادلانو) گمراهان کوی الله کافران (چی سمه لاره به نه مومی)

---

**تفسیر:** یعنی لکه چی دلته له ډیر انکار کولو څخه وشوئیدل او وویریدل او داسی اقرار ئی وکړ، په دنیا کښی هم د هم دغو کفارو هم دغه حال ؤ. نو وبه ویل شی دغو منکرینو ته د الله تعالیٰ له جانبه داسی چی

---

ذٰلِكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَفْرَحُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَبِمَا كُنْتُمْ تَمْرَحُوْنَ ﴿٧٥﴾

---

دغه (گمراهی او عذاب) تاسی ته په سبب د هغه دی چی وئ تاسی چی خوشالی به مو کوله په ځمکه کښی په ناحقه سره او په سبب د هغه چی وئ تاسی چی تکبر (لوئی) به مو کوله په ناحقه سره

---

**تفسیر:** یعنی وموليد چی د ناحق غرور، تکبر او لوئی آخره خاتمه او عاقبت داسی کیږی! اوس مو هغه لوئی او ښودنه چیری لاړه؟ او بیا وبه ویل شی دغو منکرینو ته د الله تعالیٰ له جانبه داسی چی

---

اُدْخُلُوْۤا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ

---

ننوځئ تاسی په (اوو) دروازو د دوزخ کښی

---

**تفسیر:** یعنی هر قسم مجرم به هم هغه وره کښی ننوځی چی د دوی دپاره تاکلی او مقرر کړی شوی دی.

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿٧٦﴾ فَاصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ ۚ فَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِيْ نَعِدُهُمْ أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيْنَا يُرْجَعُوْنَ ﴿٧٧﴾

په دی حال چی همیشه پاتی کیدونکی اوسئ په دغه (دوزخ) کښی پس ناکاره ځای د متکبرانو دی (دا دوزخ) پس صبر وکړه (ای محمده! په ضرر د کفارو) بیشکه چی وعده د الله (په نصرت د اولیاؤ او اهلاک د اشقیاؤ) حقه ده پس که وښیو مونږ تاته ځینی د هغه عذاب چی وعده ئی کوو مونږ له هغوی سره (نو ډیر ښه ده!) یا قبض کړو مونږ تا پس (په هر حال کښی) خاص مونږ ته بیا بیرته راوستل شی دوی (نو جزاء به ورکړه شی دوی ته)

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ د ده دپاره د عذاب ورکولو کومه وعده چی فرمایلی وه هغه یقیناً پوره او ایفاء کیدونکی ده. ممکن دی چی ځینی مواعید د رسول الله مبارک په حیات کښی په سر ورسیږی لکه چی د بدر او معظمی مکی فتح او نور فتوحات یا د دوی له وفاته وروسته. په هر حال دوی له مونږ څخه خپل ځانونه نشی ژغورلی (ساتلی) او نه ئی چیری ایستلی شی د ګردو (تولو) انجام زمونږ د قدرت په لاس کښی دی د دوی د عذاب تکمیل له دغه ژوندانه څخه وروسته کیږی او دوی په هیڅ صورت سره خپل ځان زمونږ څخه نشی خلاصولی.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّنْ قَبْلِكَ مِنْهُمْ مَّنْ قَصَصْنَا عَلَيْكَ وَمِنْهُمْ مَّنْ لَّمْ نَقْصُصْ عَلَيْكَ ۗ

او خامخا په تحقیق لیږلی وو مونږ رسولان پخوا له تانه چی ځینی له (یو لک ۲٤ زره انبیاؤ) هغه (۲۹) انبیاء دی چی قصی د هغو کړی دی مونږ تاته او ځینی له دغو هغه انبیاء دی چی قصی نه دی کړی مونږ تاته،

**تفسیر:** یعنی د ځینو انبیاؤ تفصیلی حال ئی تاسی ته بیان کړی دی. او د ځینو ئی نه دی کړی. او امکان لری چی د دی آیت له نزوله وروسته ئی د هغوی تفصیلی حال هم بیان کړی وی په هر حال د هغو رسولانو نومونه چی معلوم دی پر هغو باندی تفصیلاً او پر هغو چی نوم او نور ئی نه دی معلوم اجمالاً ایمان راوړل ضروری دی ﴿ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِهٖ ﴾

وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَنْ يَأْتِيَ بِآيَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ

او نه وو هیڅ رسول ته (او نه ئې مقدور وو) دا چې راوړي کوم يو دليل (د قدرت د الله تعالىٰ) مګر په اذن حکم د الله سره

**تفسير:** يعني د الله تعالىٰ په مخکښې تول سره عاجزان دي. رسولانو ته هم د دې خبرې واک او اختيار نشته چې هر معجزه چې د دوی زړه وغواړي هم هغه معجزه ور وښيي. دوی يوائځې هم هغه معجزات ښولی شي چې د هغې د ښوونې اجازت د رب العزت له طرفه دوی ته شوی وي.

فَإِذَا جَاءَ أَمْرُ اللَّهِ قُضِيَ بِالْحَقِّ وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْمُبْطِلُونَ ﴿٧٨﴾

پس هر کله چې راغی امر حکم د الله حکم فيصله به وکړه شي په حقه سره او زيان به وکړي هلته باطلوونکي (د حق دروغجنان)

**تفسير:** يعني څه وخت چې د الله تعالىٰ حکم رسيږي د رسولانو او د دوی د اقوامو په منځ کښې په عدل او انصاف سره حکم فيصله صادريږي. په دغه وخت کښې رسولان کامياب او فائزالمرام کيږي او د باطلو منونکيو په برخه پرته (علاوه) له ذلته او رسوائی بل هيڅ شی نه رسيږي او حکمت په نه واقع کيدلو د دغو کښې دا دی چې.

اللَّهُ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَنْعَامَ لِتَرْكَبُوا مِنْهَا وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿٧٩﴾
وَلَكُمْ فِيهَا مَنَافِعُ وَلِتَبْلُغُوا عَلَيْهَا حَاجَةً فِي صُدُورِكُمْ

الله هغه (ذات) دی چې پيدا کړي ئې دي تاسي ته چارپايان دپاره د دې چې سوريږئ پر ځينو د دوی او له ځينو د دوی خورئ تاسي. او دي تاسي لره په دغو انعامو کښې ډيرې نفعې او دپاره د دې چې ورسيږئ تاسي په دوی سره هغه حاجت ته چې په سينو (زړونو) ستاسي کښې وي

**تفسير:** مثلاً د دوی له پوستکي، څرمنې، وړيو، ويښتانو او نورو څخه راز راز (قسم قسم) فائدې، اخلئ پر دوی باندې سورلي پخپل ځای کښې يو مقصد دی او د سورلي په وسيله انسان

ډیر دیني او دنیوی مقاصد حاصلولی شی.

وَعَلَيْهَا وَعَلَى الْفُلْكِ تُحْمَلُونَ ﴿٨٠﴾

او پر دغو انعامو (په بر کښي) او پر بیړی (په بحر کښي) سورول کیږئ تاسی

**تفسیر:** یعني په وچه کښي د څاروو پر شا، او په سیند کښي پر بیړیو سواره ګرځئ او مال او اسباب مو هم پری باروئ.

وَيُرِيكُمْ آيَاتِهِ فَأَيَّ آيَاتِ اللَّهِ تُنكِرُونَ ﴿٨١﴾

او ښيی تاسی ته دلائل (د قدرت) خپل پس له کوم یوه له دلائلو (د قدرت) د الله څخه انکار کوئ تاسی

**تفسیر:** یعني سره د دومره ښکاره‌وو دلائلو له لیدلو بیا انسان تر کوم حد او اندازی پوری پخپل شک او انکار کښي تینګ ولاړ دی لا نه دی معلوم چي الله تعالیٰ د خپل قدرت څومره نوری نښي او دلائل هم ورښيی؟

أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ كَانُوا أَكْثَرَ مِنْهُمْ وَأَشَدَّ قُوَّةً وَآثَارًا فِي الْأَرْضِ فَمَا أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿٨٢﴾

آیا پس نه دی ګرځیدلي دوی په ځمکه (ملکونو) کښي پس چي وګوری دوی چي څرنګه شو عاقبت آخره خاتمه د هغو کسانو چي پخوا له دوی نه (تیر شوی) وو. چي وو هغوی ډیر زیات له دغو (کفارو) څخه او ډیر سخت وو په (بدني) قوت او (مدني) آثارو په ځمکه کښي پس هیڅ دفع ونه کړه له دوی نه هغه (اعمال) چي وو هغوی چي کسب پیدا کول به ئی (چي اموال او رجال او نور وو)

**تفسیر:** یعنی پخوا له دی نه ډیر داسی اقوام تیر شوی دی چی په سرو او ملاتړ، زور او قوت او نورو شیانو کښی له دغو موجوده وو کفارو ځنی ډیر قوی ؤ. هغوی له دوی ځنی زیاتی او مهمی نښی او یادونی په ځمکه کښی پریښی دی لیکن څه وخت چی د الله تعالیٰ عذاب ورنازل شو نو هغه زور او قوت، سامان او وسائل هیڅ د دوی په کار ورنغلل او سره له هغو سپیره، هلاک او تباه شول.

فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَرِحُوا۟ بِمَا عِندَهُم مِّنَ ٱلْعِلْمِ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٨٣﴾

پس هر کله چی رابه غلل دوی ته رسولان د دوی په ښکاره دلائلو (د قدرت) نو خوشاله به شول (دغه کفار استهزاً) په هغه چی له دوی څخه به وو له علمه (اخباره پوهنه) او چاپیر (محیط منعکس) شو پر دوی هغه (عذاب) چی وو به دوی چی په هغه پوری به ئی مسخری کولی.

**تفسیر:** یعنی د معاش د وجوه او مادیه ؤ ترقیاتو کوم علوم او فنون چی له هغوی سره ؤ او پر هغو غلطو عقیدو چی دوی خپل زړونه ترلی ؤ او پر هغو به ئی تکبر، تفاخر او لوئی کوله او د انبیاؤ علیهم السلام علومو او هدایاتو ته به ئی په سپکه کتل او په تحقیر به ئی لیدل، او پری توکی او مسخری به ئی کولی. بالاخر داسی یو وخت راغی چی هغوی ته د خپلو هم هغو توکو او ملندو نتیجه او حقیقت پخپله ورښکاره شوه او د هغه تمسخر او استهزاء مورد پخپله هم دوی وګرځیدل.

فَلَمَّا رَأَوْا۟ بَأْسَنَا قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَحْدَهُۥ وَكَفَرْنَا بِمَا كُنَّا بِهِۦ مُشْرِكِينَ ﴿٨٤﴾

پس هر کله چی وبه لید دوی (په دنیا کښی) سخت عذاب زمونږ نو وبه ئی ویل ایمان مو راوړی دی په الله یواځی او کافران شو مونږ پر هغو څیزونو چی وو مونږ په سبب د هغه څیز مشرکان (چی بتان دی)

**تفسير:** يعنى څه وخت چې دوى له عذاب سره مخامخ شول او د الله تعالىٰ د عذاب معائنه ئې وکړه، نو دلته هوش ئې په سر راغى، او د ايمان راوړلو او توبه ايستلو په فکر کښې ولويدل، او وروسته له هغه په دى وپوهيدل چې يواځې د واحد الله په لطف او مرحمت سره کار چليدى شى، هغو شيانو ته چې مونږ د معبوديت درجه ورکړى وه هغه ګرد (ټول) عبث او بيکاره او عاجزان ؤ او مونږ ډير احمقان او جاهلان وو چې داسى چټى او بيکاره شيان مو د الوهيت پر تخت کينولى ؤ.

فَلَمۡ يَكُ يَنۡفَعُهُمۡ اِيۡمَانُهُمۡ لَمَّا رَاَوۡا بَاۡسَنَا ؕ

پس نه ؤ (دا کار) چې نفع ورسوى دوى ته ايمان د دوى هر کله چې وبه ليد دوى سخت عذاب زمونږ

**تفسير:** يعنى اوس د افسوس او ارمان او د تقصير له اقراره او اعترافه هيڅ يوه فائده نه وررسيږى د ايمان او د توبى وخت تير شوى دى. د عذاب له ليدلو څخه خو هر يوه سړى ته بى اختياره يقين او باور پيدا کيږى مګر دغسى يقين د نجات موجب نشى کيدى او نه د داسى يقين په واسطه نازل شوى عذاب منع کيدى شى کما قال الله تعالىٰ فى الركوع (۳) آيت ۱۸ من سورة النساء ﴿ وَلَيۡسَتِ التَّوۡبَةُ لِلَّذِيۡنَ يَعۡمَلُوۡنَ السَّيِّاٰتِ ۚ حَتّٰۤى اِذَا حَضَرَ اَحَدَهُمُ الۡمَوۡتُ قَالَ اِنِّىۡ تُبۡتُ الۡـٰٔنَ وَلَا الَّذِيۡنَ يَمُوۡتُوۡنَ وَهُمۡ كُفَّارٌ ﴾ وقال فى قصة فرعون ﴿ آٰلۡـٰٔنَ وَقَدۡ عَصَيۡتَ قَبۡلُ وَكُنۡتَ مِنَ الۡمُفۡسِدِيۡنَ ﴾ وفى الحديث «**ان الله تعالىٰ يقبل توبة العبد ما لم يغرغر**».

سُنَّتَ اللّٰهِ الَّتِىۡ قَدۡ خَلَتۡ فِىۡ عِبَادِهٖ ۚ وَخَسِرَ هُنَالِكَ الۡكٰفِرُوۡنَ ﴿۸۵﴾ ع

(طريقه ايښى ده الله) طريقه د الله هغه چې په تحقيق تيره شوى ده په بندګانو د دغه (الله) او زيان کاره شول په دغه ځاى کښې کافران (چې ښکاره شو هغه متمادى خسران د دوى)

**تفسير:** يعنى دغه وضعيت له پخوا راهسى تل دوام لرى چې خلق ړومبى د انکار او استهزاء له لارى وړاندى کيږى بيا هر کله چې په عذاب کښې اخته او مبتلا شى نو شورماشور لګوى او پر خپلو اغلاطو اعتراف کوى د الله تعالىٰ دا عادت دى چې ناوخته توبه نه قبلوى بالاخر منکرين د خپلو جرائمو په بدل سپيره، خراب او بربادېږى.

«**اللّٰهم احفظنا من الخسران واحفظنا من غضبک وسخطک فى الدنيا والآخرة**»

«**تمت سورة المؤمن ولله الحمد والمنة**»

سورة حٰمٓ السجدة مكية وهى اربع و خمسون آية وست ركوعات رقم تلاوتها (٤١) تسلسلها حسب النزول (٦١)

«نزلت بعد سورة المؤمن»

«د حٰمٓ السجده سورت مكى دى (٥٤) آيت (٦) ركوع لرى په تلاوت كښې (٤١) او په نزول كښې (٦١) سورت دى»

«وروسته د «المؤمن» له سورت څخه نازل شوى دى»

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع كوم په نامه د الله چه ډير زيات مهربان پوره رحم لرونكى دى

حٰمٓ ﴿١﴾ تَنْزِيْلٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴿٢﴾

(دغه قرآن) راليږلى شوى دى له (هغه الله) چې خورا(ډير) مهربان ډير رحم والا دى

**تفسير:** يعنى د الله ډيره زياته مهربانى او رحمت پر خپلو بندګانو دى چې د دوى د هدايت دپاره ئې داسى عظيم‌الشان او بيمثاله كتاب نازل فرمايلى دى.

كِتٰبٌ فُصِّلَتْ اٰيٰتُهٗ

داسى كتاب دى چې په تفصيل سره بيان شوى دى آيتونه د ده.

**تفسير:** په لفظى ډول (طريقه) سره د آيتونو بيل بيل توب خو ښكاره دى مګر له معنوى حيثيته هم د سلهاوو اقسامو علومو او مضامينو تفصيل په بيلو بيلو آيتونو كښې وركړى شوى دى.

قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا لِّقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿٣﴾

په دى حال چې لوستلى شوى دى په عربى ژبه دپاره د هغه قوم چې پوهيږى.

**تفسیر:** یعنی عظیم‌الشان قرآن په اعلیٰ درجې صافي عربي ژبې نازل کړې شوی دی چې د ده د ړومبنیو مخاطبینو مورنۍ ژبه وه څو هغو خلقو ته د ده په پوهیدلو کښې څه تکلیف ورپېښ نشي، او دوی ژر او ښه پرې وپوهیږي او بیا نور انسانان هم پرې په ښه شان سره وپوهوي. مګر سره له هغه دغه خبره هم ظاهره ده چې هم هغه خلق له دغه قرآن څخه منتفع او ګټور کیدی شي چې د عقل او پوه خاوندان وي. ناپوه او جاهل خلق د دغه عظمی نعمت څه قدر او عزت کولی شي؟

بَشِيرًا وَّنَذِيرًا

زیرې ورکوونکی دی (دا کتاب مؤمنانو ته په جنت) او ویروونکی دی (دا کتاب کفارو لره له دوزخ)

**تفسیر:** یعنی دغه پاک قرآن خپلو منونکیو ته د نجات او فلاح زیرې آوروي او منکرینو ته د دوی له بده انجامه ویره ورکوي.

فَأَعْرَضَ أَكْثَرُهُمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ ﴿٤﴾

پس مخ وګرځاوه زیاتره د دغو (کفارو) پس دوی نه اوري (حق په آوریدلو د قبول سره)

**تفسیر:** یعنی سره له دغو ګردو (ټولو) خبرو تعجب دی چې له دوی نه ډیر کسان د دې کتاب دغه ډیر قیمت لرونکیو پندونو او نصائحو ته غور او دقت نه کوي. کله چې دی ته بیخي د دوی فکر نشته نو ولې به ئې آوري؟ او فرض ئې کړئ که دوی دغه قرآن پخپلو غوږونو سره هم واوري لیکن د زړه په غوږونو سره ئې نه آوري. او د ده د منلو او قبلولو توفیق نه ورحاصلوي نو د دوی دغه آوریدل د نه آوریدلو په شان دی.

وَقَالُوا قُلُوبُنَا فِي أَكِنَّةٍ مِّمَّا تَدْعُونَا إِلَيْهِ وَفِي آذَانِنَا وَقْرٌ
وَمِن بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ فَاعْمَلْ إِنَّنَا عَامِلُونَ ﴿٥﴾

او وائی (دغه کفار محمد ته) زړونه مو په پردو کښې دی له (فهمه) د هغه شیزه چې بولی ته مونږ هغه ته (چې توحید یا قرآن دی) او په غوږونو زمونږ کښې دروندوالی دی (چې نه اورو وینا ستا) او په منځ زمونږ او په منځ ستا کښې پرده (د مخالفت) ده نو عمل وکړه ته (پر دین خپل) بیشکه مونږ هم عمل کوونکی یو (پر دین خپل)

**تفسیر:** یعنی یواځې دومره قدر نه دی چې دوی د نصیحت په طرف نه متوجه کیږی یا غوږ ورته نه نیسی بلکه دغسی خبری هم کوی چې له هغو آوریدلو ځنې بیخی ناصحان بې‌هیلی او نا‌امیده کیږی او په مستقبل کښې د نصیحت اورولو اراده هم پریږدی. مثلاً وائی چې زمونږ پر زړونو ستا د خبرو له جانبه غلاف دی او په کڅوړو کښې تری پټ دی ځکه ستا هیڅ یوه خبره پکښې نشی ننوتلی، او نه وررسیږی. هر کله چې ته خبری کوی زمونږ په غوږونو کښې د کونتوب دروندوالی پیدا کیږی او د دغه ثقل‌السماع له سببه مونږ څه شی نشو اوریدلی او زمونږ او ستاسی په منځ کښې داسی یوه پرده ده چې مونږ سره بیلوی دغه د دښمنی او عداوت لوی لوی دیوالونه چې ستا او زمونږ په منځ کښې سره ولاړ دی که له منځه لری شی، او که دغه ژور خلیج چې په منځ کښې مو حائل دی ورک شی بیا به نو مونږ یو بل ته رسیدی شو. لیکن داسی کیدل بیخی ممکن نه دی. نو بیا ته ولی خپل ماغزه خوروی؟ او سر دی ګرځوی مونږ پر خپل حال خوشی پریږده! ته دی خپل کار کوه! مونږ به خپل کار کوو. له سره د دغی خبری توقع مه لره چې مونږ چیری ستا له دغو پندونو او نصائحو څخه متاثر کیدونکی یو.

قُلْ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَىٰٓ إِلَىَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ
فَٱسْتَقِيمُوٓا۟ إِلَيْهِ وَٱسْتَغْفِرُوهُ ۗ

ووایه (ای محمده! دوی ته) بیشکه هم دا خبره ده زه یو بشر انسان یم په شان ستاسی (لیکن فرق می دا دی چې) وحی کیږی ماته (له طرفه د رب زما) داسی چې بیشکه هم دا خبره ده چې معبود ستاسی معبود یو دی پس سم مستقیم ورځئ ده ته (په توحید) او مغفرت وغواړئ له ده نه

**تفسیر:** یعنی نه زه خدای یم چې په زور سره ستاسی زړونه واړولی شم. او نه هغه پرښته یم چې د هغی د رالیږلو غوښتنه تاسی کوئ او نه کوم بل مخلوق یم. بلکه ستاسی له نوعی او له جنسه یو انسان یم چې زما خبره پوهیدل ستاسی د همجنسی له سببه تاسو ته آسان دی او هغه انسان یم چې د الله تعالیٰ له جانبه آخری او د خورا (ډیر) اکملی وحی دپاره غوره شوی یم بناء علیه

هومره چې تاسي له هغه څخه مخ واړوئ او هومره چې یاس راوړونکي خبرې وکړئ زه خامخا د پاک الله پیغام تاسي ته آوروم. ماته د وحې په وسیله دا ښوولي شوي دي چې ستاسي تولو معبود او علی‌الاطلاق حاکم یو دی چې ماسواء له هغه بل هیڅوک د عبادت لائق نه دی. لهٰذا پر تولو لازم دي چې په ګردو (تولو) شئونو او احوالو کښې سم د هم هغه واحد الله تعالیٰ په طرف مخ وګرځوئ او د ده د سمي صافي لاري څخه یوه خاشه دې خوا او هغې خوا ته لاړ نشئ. او هغه بې لارې او کاږه تلل چې پخوا له دې نه ستاسي څخه صادر شوي وي د هغو معافي د الله تعالیٰ له درباره وغواړئ چې پاک الله ګرد (تول) پومبني او وروستني ګناهونه دروبښي.

وَوَيۡلٌ لِّلۡمُشۡرِكِيۡنَ ۙ﴿٦﴾ الَّذِيۡنَ لَا يُؤۡتُوۡنَ الزَّكٰوةَ وَهُمۡ بِالۡاٰخِرَةِ هُمۡ كٰفِرُوۡنَ ﴿٧﴾

او افسوس هلاک خرابي ده دپاره د مشرکانو هغه چې نه ورکوي زکوٰة (یا نه کوي هغه کار چې پرې پاکیږي) او دوی پر آخرت (حساب کتاب ثواب عقاب) هم دوی کافران منکران دي.

**تفسیر:** د هغو خلقو معامله چې له الله تعالیٰ سره داسي وي چې عاجز مخلوق د ده په عبادت کښې شریکوي او له بندګانو سره داسي وي چې د صدقې او زکوٰة پیسې پر کوم فقیر او محتاج نه لګوي او نه غواړي چې مساکین پرې خوشاله شي او ورسره له آخرته او انجامه هم بیخي بیفکره او غافل دي څکه چې دوی له سره دغه خبره نه مني چې له مړیني څخه وروسته بل کوم ژوندون حساب، کتاب، ثواب، او عقاب شته. د دغسي خلقو مستقبل ماسواء له اهلاکه خرابي، بربادي او سپکتیا بل شی نه دی.

**(تنبیه)** د څینو اسلافو په نزد دلته له «الزکوٰة» څخه طیبه کلمه مراد ده. او څیني د «زکوٰة» معنی په پاکي، او صفایي سره کوي. نو په دغه تقدیر سره ئې مطلب داسي کیږي «هغه خلق چې خپل نفس له فاسده‌وو عقائدو او ذمیمه وو اعمالو څخه پاک او صاف نه ساتي» په دغه کښې د طیبې کلمي ترک او زکوٰة نه ادا کول او نور ګرد (تول) راغلل. **وهذا کما قال** ﴿قَدۡ اَفۡلَحَ مَنۡ تَزَكّٰى﴾ **وقال** ﴿قَدۡ اَفۡلَحَ مَنۡ زَكّٰىهَا﴾ **وقال** ﴿وَّحَنَانًا مِّنۡ لَّدُنَّا وَزَكٰوةً﴾ **وغیر ذلک.**
ښائي دغه معنی د دې لامله (له وجې) کړې شوې وي چې کفار مخاطب بالفروع نه دي.
یا څکه چې دغه آیت مکي دی او د زکوٰة او د نورو تشخیص په مدیني منورې کښې شوی دی.
والله اعلم.

اِنَّ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمۡ اَجۡرٌ غَيۡرُ مَمۡنُوۡنٍ ﴿٨﴾ ع

بیشکه هغه کسان چې ایمان ئې راوړی دی او کړی ئې دی ښه (عملونه) شته دوی ته اجر چې نه دی قطع کیدونکی.

**تفسیر:** یعنې هیڅکله به نه منقطع کیږی او تر ابدالاباد پورې به جاری وی کله چې جنت ته ورسیږی نه به دوی او نه به د دوی ثواب فناء او انقطاع مومی.

قُلْ أَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُونَ بِالَّذِي خَلَقَ الْأَرْضَ فِي يَوْمَيْنِ وَتَجْعَلُونَ لَهُ أَندَادًا ۚ ذَٰلِكَ رَبُّ الْعَالَمِينَ ﴿٩﴾

ووایه (ای محمده! دوی ته) آیا بیشکه تاسی خامخا کافران کیږئ په هغه الله چې پیدا کړی ئې ده ځمکه په دوو ورځو (د یکشنبې چې په اول کښې ئې پیدا او په دوهمه کښې ئې وغوړوله) او ګرځوئ له خپل ځانه (دغه الله) ته شریکان، دغه ذات (چې ځمکه ئې په دوو ورځو کښې پیدا کړې ده) رب د علمیانو دی

**تفسیر:** یعنې څومره د حیرت او د تعجب ځای دی چې د رب العٰلمین د وحدانیت او کمالیهٔ صفاتو څخه انکار کوئ او نور داسې شیان له هغه سره برابروئ چې د یوې ذرې په اندازه هم د کار او اختیار مالکان نه دی.

وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ مِن فَوْقِهَا وَبَارَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَا أَقْوَاتَهَا

او پیدا کړی دی (الله) په دغه (ځمکه) کښې درانه کلک محکم غرونه د پاسه د دی نه او بیا ئې برکت کیښود په دغه (ځمکه یا غرونو) کښې او مقرره (په اندازه) کړی ئې ده په دی ځمکه کښې روزی (د اهل) د دی

**تفسیر:** «او بیا ئې برکت کیښود په دغه ځمکه یا غرونو کښې» یعنې قسم قسم کانونه، ونې، میوې، ثمرات، غلې او حیوانات او نور له ځمکې څخه وځې «او مقرره او په اندازه کړی ئې ده په دی ځمکه کښې روزی د اهل د دی» یعنې پر ځمکه باندې ئې د هستیدونکیو خواړه په یوې خاصې اندازې او حکمت سره په ځمکه کښې کیښودل. لکه چې د هر اقلیم او د هر ملک د هستیدونکیو له طبایعو او له ضروریاتو سره ئې موافق خواړه مهیا او تهیه فرمایلی دی. او الله

اکرم شانه واعظم برهانه پیدا کره ځمکه، غرونه او نور او مقدر ئی کړل اوقات.

فِيٓ أَرۡبَعَةِ أَيَّامٖ سَوَآءٗ لِّلسَّآئِلِينَ ١٠

په څلورو ورځو کښې برابر دی دپاره د پوښتني کوونکیو (له پیدا کولو د ځمکې او د مافیها)

**تفسیر:** یعنی ګرد (ټول) کارونه په څلورو ورځو کښې وشول. په دوو ورځو کښې ځمکه پیدا کړی شوه. او په دوو نورو ورځو کښې چې سه شنبه چار شنبه دی د دوی د نورو متعلقاتو بندوبست وشو. هر څوک چې پوښتنه کوی یا د پوښتنې کولو اراده لری هغوی ته دغه ورووښیه! چې دغه ټول په څلورو ورځو کښې بی له تزئیده او تنقیصه په وجود راغلی دی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «یعنی د پوښتنو کوونکیو جواب پوره شو».
**تنبیه:** دلته له ورځو ځنی په ظاهری صورت سره هم دغه معروفی او متبادری ورځی نشی مراد کیدی. ځکه چې د ځمکې او د لمر او د نورو موجوداتو له وجوده پخوا د هغه وجود له سره نه دی متصور. لامحاله له دغو څلورو ورځو څخه به د هغو مقدار مراد وی یا به هغه ورځی تری مرادی وی چې د هغو په نسبت ئی فرمایلی دی ﴿ وَإِنَّ يَوۡمًا عِندَ رَبِّكَ كَأَلۡفِ سَنَةٖ مِّمَّا تَعُدُّونَ ﴾ جزء ٢٢ (د الحج (٦) رکوع ٤٧ آیت زمونږ د دغه مقدس تفسیر ) والله اعلم.

ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ وَهِيَ دُخَانٞ

بیا ئی اراده وفرمایله (پیدا کولو د) آسمان ته حال دا چې دغه آسمان یو لوګی ؤ (ولاړ)

**تفسیر:** یعنی بیا د آسمانونو په طرف متوجه شو چې په دغه وخت کښې دوی ګرد (ټول) سره یو وو د یوه لوګی په شان نو هغوی ئی سره تقسیم کړل، او په اووو آسمانونو سره ئی وویشل لکه چې وروسته له دی نه ئی ذکر راځی.
**تنبیه:** ممکن دی له «دخان» څخه د آسمانونو د مادی په طرف اشاره وی.

فَقَالَ لَهَا وَلِلۡأَرۡضِ ٱئۡتِيَا طَوۡعًا أَوۡ كَرۡهٗا قَالَتَآ أَتَيۡنَا طَآئِعِينَ ١١

پس وفرمایل (الله) دغه (آسمان) ته او (دغی) ځمکې ته چې راشئ دواړه پخپلی خوښی سره یا په زور سره، وویل آسمان او ځمکې راځو مونږ (فرمان

ستا ته) په خوښۍ سره

**تفسير:** يعني اراده ئې وفرمايله چې د دغو دواړو آسمان او ځمکې له يو ځاى كيدلو څخه دنيا ودانه كړى اعم له دى نه چې دوى دواړه پخپل طبيعت سره يو ځاى شى كه په زور سره په هر حال د دواړو له يو ځاى كولو سره ئې دغه نظام جوړول مقصود ؤ او دغه دواړه سره يو ځاى شول پخپل طبيعت له آسمان د لمر اشعى راغلى او تودوخى پيدا شوى هواوى جارى شوى، د هغو دوړى او بخار پاس پورته شو، بيا له هغه څخه اوبه توئيدى او د باران په صورت ووريدى چې د هغو په وسيله راز راز (قسم قسم) شيان پيدا شول او پخوا ئې فرمايلى ؤ چې «په ځمكه كښې ئې د دوى خوراكونه كيښودل» يعني په ځمكه كښې ئې داسى قابليت كيښود چې دغسى شيان ترى پيدا كيږى والله اعلم.

## فَقَضٰىهُنَّ سَبۡعَ سَمٰوٰتٍ فِیۡ یَوۡمَیۡنِ

پس مقرر جوړ كړل (الله لوګى ځنى) اووه آسمانونه په دوو ورځو (د پنجشنبى جمعى) كښى

**تفسير:** يعني څلور ورځى هغه وى او په دوو ورځو كښى ئې آسمانونه پيدا كړل چې ګردى (تولى) سره شپږ ورځى شوى لكه چې په بل ځاى كښى د «ستة ايام» تصريح شته.

**تنبيه:** په هغو مرفوعه ؤ احاديثو چې د كائناتو د تخليق په متعلق د ورځو تعين او ترتيب راغلى دى چې هغه دغه شيان الله تعالىٰ د هفتى په دغو او هغو ورځو كښى پيدا كړى دى په هغو كښى كوم يو صحيح حديث تر اوسه پورى په نظر نه دى راغلى حتىٰ چې د ابوهريره د حديث په متعلق چې په صحيح مسلم كښى دى «ابن كثير» ليكى **«هو من غرائب الصحيح وقد علله البخارى فى التاريخ فقال رواه بعضهم عن ابى هريرة عن كعب الاحبار وهوالاصح»** او په روح المعانى كښى له (قفال شافعى) څخه نقل كړى دى **«تفرد به مسلم وقد تكلم عليه الحفاظ على بن المدينى والبخارى و غيرهما وجعلوه من كلام كعب وان ابا هريرة انما سمعه منه ولكن اشتبه على بعض الرواة فجعله مرفوعا»** باقى د قرآن الكريم دغه آيت او د البقرة د سورت له دغه آيت ﴿ ثُمَّ اسۡتَوٰۤى اِلَى السَّمَآءِ فَسَوّٰىهُنَّ سَبۡعَ سَمٰوٰتٍ ﴾ څخه دغه ظاهريږى چې اووه آسمانونه د ځمكى د پيدا كولو څخه وروسته جوړ شوى دى او د «النازعات» په سورت كښى له ﴿ وَالۡاَرۡضَ بَعۡدَ ذٰلِكَ دَحٰىهَا ﴾ څخه ظاهريږى چې ځمكه وروسته له آسمانه غوړولى شوى ده د دغه جواب په څو دولو (قسمو) سره وركړى شوى دى د (ابوحيان) تقرير د دى احقر خوښ دى يعني ضرورى نه ده چې په ړومبنى آيت كښى «ثم» او په وروستنى آيت كښى «بعد ذٰلک» د زمان د تراخى دپاره

وی ممکن دی چی له دغو الفاظو څخه تراخي في الاخبار یا رتبی تراخی مراد واخیسته شی لکه چی په ﴿ ثُمَّ كَانَ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا بِالْمَرْحَمَةِ ﴾ کښی یا په ﴿ عُتُلٍّ بَعْدَ ذَٰلِكَ زَنِيمٍ ﴾ کښی هم دغه معنی مراد اخیستی شوی ده په هر حال په قرآن کریم کښی د زمانی ترتیب تصریح نشته هو! د نعمت په تذکره کښی د ځمکی او د عظمت او قدرت په تذکره کښی ئی د آسمان ذکر مقدم ایښی دی چی د هغه نکته په ادنیٰ تامل او تدبر سره معلومیدی شی د تفصیل موقع دا نه ده دغه څو الفاظ د اهل العلم د تنبیه دپاره لیکلی شوی دی.

---

وَأَوْحَىٰ فِي كُلِّ سَمَاءٍ أَمْرَهَا

---

او وئی لیږه (مقرر ئی کړ) په هر آسمان کښی کار (مناسب تدبیر) د هغه (آسمان)

---

**تفسیر:** یعنی هر هغه حکم چی د هر آسمان دپاره مناسب وو. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی چی «دغه رب ته معلوم دی چی هلته څه قسم مخلوق اوسیږی؟ او د دوی اسلوب وضعیت او هیئت څرنګه دی؟ په دغه ځمکه کښی چی په زرهاوو کارخانی دی نو آیا دومره لوی آسمانونه به څرنګه تش پراته وی».

---

وَزَيَّنَّا السَّمَاءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيحَ وَحِفْظًا ۚ ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ ﴿١٢﴾

---

او ښائسته کړی مو دی دغه آسمان نژدی په ډیوو (ستوریو) سره او (ساتلی دی مونږ دا آسمان) په ساتلو سره (له غوږ کیښودلو د شیطانانو) دغه (مخلوقات) اندازه کول دی د الله ښه غالب قوی (په انفاذ د احکامو) ښه عالم (په هر څیز)

---

**تفسیر:** یعنی په لیدلو سره داسی معلومیږی چی دغه ګرد (تول) ستوری پر هم دغه آسمان باندی ختلی دی د شپی له مخی په دغه قدرتی ډیوو سره آسمان څرنګه ښکلی او ډک له رونقه ښکاری؟ بیا ئی څومره محفوظ ګرځولی دی چی د هیچا لاس او قدرت ورته نه رسیږی د پرښتو زوروری پیری ولاړی دی هیڅ یو طاقت او قوت پر دغه تینګ نظام کښی څه درځ او چاود نشی غورځولی ځکه چی هغه د الله تعالیٰ له خوا جوړ او قائم شوی دی چی له ګردو (تولو) څخه لوی زبردست او باخبر ذات دی.

فَاِنْ اَعْرَضُوْا فَقُلْ اَنْذَرْتُكُمْ صٰعِقَةً مِّثْلَ صٰعِقَةِ عَادٍ وَّثَمُوْدَ ﴿١٣﴾

پس كه چيرى مخ وگرځاوه (دغو كفارو له حقه) پس ووايه (اى محمده ! دوى ته) چي ويروم زه تاسى له سخت عذابه په مثل د سخت عذاب د عاديانو (لكه باد د صرصر) او ثموديانو (لكه چغه د جبريل).

**تفسير:** يعني كه د معظمي مكى كفارو د داسي عظيم‌الشان آيتونو د آوريدلو څخه وروسته بيا هم د نصيحت له قبلولو او د توحيد او د اسلام له لارى د غوره كولو څخه مخ واړوى نو تاسى دوى ته وفرمايئ «زه تاسى په دغه خبروم چي ستاسى خاتمه هم د «عاد» او «ثمود» او نورو معذبينو اقوامو په شان كيږى».

اِذْ جَآءَتْهُمُ الرُّسُلُ مِنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ

كله چي راغلل دوى ته رسولان (هود او صالح) له طرفه د وړاندى د دغو (كفارو او له طرفه د وروسته د دغو (كفارو له هره طرفه) او وى ويل دوى ته داسي

**تفسير:** يعني له هر طرفه ښائى چي دير رسولان به ورغلي وى مگر مشهور دا دى چي دا رسولان حضرت هود او حضرت صالح على نبينا و عليهما الصلوٰة والسلام دى يا به له ﴿مِنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ﴾ څخه داسي مراد وى چي دوى ته ئى د ماضى او مستقبل پر خبرو وپوهوى او د ورښوولو او د پند او نصيحت هيڅ جانب او پلو ئى پرى نښود.

اَلَّا تَعْبُدُوْۤا اِلَّا اللّٰهَ ؕ قَالُوْا لَوْ شَآءَ رَبُّنَا لَاَنْزَلَ مَلٰٓئِكَةً فَاِنَّا بِمَاۤ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿١٤﴾

چي مه كوئ عبادت مگر يواځى د الله وويل (كفارو په جواب د دوى كښى) كه اراده فرمائلي وى رب زمونږ (په ليږلو د رسولانو) نو خامخا ليږلى به ئى وى پرښتى پس بيشكه چي مونږ په هغه څيز چي راليږلى شوى يئ تاسى په هغه سره كافران (يو او نه ئى منو ځكه چي تاسى زمونږ په شان انسانان يئ

او پر مونږ څه امتياز نه لرئ)

**تفسير:** يعني د الله رسول څرنګه بشر کيدی شي؟ که الله په واقع سره کوم رسول ليږه نو له آسمانه به ئې کومه پرښته ليږلی وه په هر حال تا پخپل زعم سره کومې خبرې چې د الله تعالىٰ له جانبه راوړی دی مونږ د هغو د منلو دپاره تيار نه يو.

فَأَمَّا عَادٌ فَاسْتَكْبَرُوا فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَقَالُوا مَنْ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً

پس هر څه چې عاديان وو پس کبر (لوئی) ئې غوره کړه په ځمکه کښې په ناحقه سره او (کله چې هود دوی وويرول نو) وويل دوی څوک دی زيات سخت له مونږ څخنې په قوت کښې

**تفسير:** ښائی کله چې رسولانو دوی له عذابه ويرولی وی دوی به د هغوی په جواب کښې داسې ويلی وی چې له مونږ څخه زيات زورور او طاقتور بل څوک دی؟ چې مونږ له هغه څخه ووېرېږو. آيا زمونږ په شان پر زورورو انسانانو خپل رعب او ويره کينولی شي؟ حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليکي «د دوی اجسام ډير لوی لوی وو. نو د خپلو ابدانو په زور او قوت مغرور شول حال دا چې د تکبر او غرور له پلوه ئې خبرې کول د الله تعالىٰ له درباره وبال او نکال نازلوی».

أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ اللَّهَ الَّذِي خَلَقَهُمْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُمْ قُوَّةً ۖ وَكَانُوا
بِآيَاتِنَا يَجْحَدُونَ ﴿١٥﴾

آيا نه وينی (او نه پوهيدل) دوی چې بيشکه الله هغه (ذات) دی چې پيدا کړی ئې دی دوی هغه ډير سخت دی له دوی نه په قوت زور کښې او دوی په دلائلو د (قدرت) زمونږ چې انکار به ئې کوو (سره له علمه په دی باندی چې هغه حق دی)

**تفسير:** يعني پخپلو زړونو کښې د ده پر حقانيت پوهيدل مګر د ضد او انکار له لوری به ئې هم داسې معامله کوله.

فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا فِيٓ أَيَّامٍ نَّحِسَاتٍ لِّنُذِيقَهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ فِي الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا

پس راومو لیږه پر دوی باندی باد یخ ډیر زورور هیبتناک په څو ورځو کښې چې ډیری نحسي شومي وی دپاره د دی چې وڅکوو مونږ پر دغو (کفارو) عذاب رسوا کوونکی په دغه ژوندون لږ خسیس کښې

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «د دوی د غرور ماتولو دپاره د یوه کمزور مخلوق په وسیله هغوی پناه او سپیره شول اوه شپې او اته ورځې مسلسل سخته سیلی چلیده ونی، غنی، انسان، حیوان، ودانی او عمرانی شیان ئی بیخی له ځمکی څخه یوړل او هیڅ یو شی ئی باقی پری نښود.»

وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ أَخْزَىٰ ۖ وَهُمْ لَا يُنصَرُونَ ﴿١٦﴾

او خامخا عذاب د آخرت خو ډیر رسوا کوونکی دی حال دا چې له دوی سره به مدد ونه کړ شی (په دفع د عذاب کښې)

**تفسیر:** یعنی د آخرت رسوائی خو ډیره لویه ده چې د هیچا په منع کولو او مخه نیولو سره نه معطلیږی او نه بیرته آوړی. او نه هلته یو بل ته څه کومک او مدد رسولی شی. له هر سړی سره به د خپل ځان فکر وی د محبت او مینی او د همدردی ډیر مدعیان به هلته له خپلو دوستانو، خپلوانو او مینانو څخه سترګی اړوی او په پټه او په غلا سره به ورګوری.

وَأَمَّا ثَمُودُ فَهَدَيْنَاهُمْ فَاسْتَحَبُّوا الْعَمَىٰ عَلَى الْهُدَىٰ

او هر څه چې ثمودیان وو پس سمه لاره مو وښووله دوی ته (په لیږلو د رسولانو سره) پس غوره کړ دوی ړوندوالی (ضلالت) پر هدایت (او رهنمائی)

**تفسیر:** یعنی د نجات له هغی لاری څخه چې زمونږ رسول صلی الله علیه وسلم ورښوولی وه دوی خپلی سترګی وتړلی او ړوندوالی ئی ځانته غوره کړ. بالاخر الله تعالیٰ هم دوی د هم دوی په خوښه سره په هم هغه حالت پریښودل.

فَأَخَذَتْهُمْ صَاعِقَةُ الْعَذَابِ الْهُونِ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿١٧﴾

پس ونیول دوی لره سختی چغی (د جبریل او) د عذاب سپکوونکی په سبب د هغه (شرک او عصیان) چی وو دوی چی کول به ئی (چی تکذیب د صالح وو)

**تفسیر:** یعنی داسی یوه سخته زلزله راغله چی له هغی سره دیره سخته چغه هم وه چی د هغه غږ له شدته د دوی زهره وچاوده او د زړونو حرکت ئی بند شو.

وَنَجَّيْنَا الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ ﴿١٨﴾ ع

او نجات مو ورکړ هغو کسانو ته چی ایمان ئی راوړی وو او وو دوی چی پرهیزگاری به ئی کوله (له شرکه)

**تفسیر:** یعنی هغه کسان چی ایمان ئی راووړ او له بدی څخه ئی ځانونه وژغورل (وساتل) الله تعالیٰ دوی ته له عذابه نجات ورکړی دی. او د عذاب د نزول په وخت کښی لږ څه صدمه او تود باد هم نه وررسیږی.

وَيَوْمَ يُحْشَرُ أَعْدَاءُ اللَّهِ إِلَى النَّارِ فَهُمْ يُوزَعُونَ ﴿١٩﴾

او (یاده کړه) هغه ورځ چی راټول به کړل شی دښمنان د الله اور (د دوزخ) ته پس دوی به ډلی ډلی کړل شی.

**تفسیر:** یعنی د هر یوه قسم مجرمانو ډلی او جماعتونه به سره بیل بیل وی او دغه گرد (ټول) جماعتونه به یو د بل په انتظار کښی جهنم ته نژدی درول کیږی. بیا چی ټول سره یو ځای شی نو روان به کړل شی دوزخ ته.

حَتَّىٰ إِذَا مَا جَاءُوهَا شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ وَأَبْصَارُهُمْ وَجُلُودُهُمْ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٢٠﴾

تر هغه وخته پوری چی راشی دوی دغه (اور ته) شاهدی به ورکړی پر دوی باندی غوږونه د دوی او سترگی د دوی او پوستکی (او نور اعضاء) د دوی پر

هغو (کارونو) چی وو دوی چی کول به ئی.

**تفسیر:** په دنیا کښې ئې پخپلو غوږونو سره تنزیله آیتونه واوریدل او پخپلو سترګو سره ئې تکوینیه آیتونه ولیدل مګر سره له هغه د الله تعالیٰ وحدانیت او د ده د رسول رسالت ئې ونه مانه او په هر حیث او هر جهت د الله تعالیٰ عصیان او نافرمانی ته متوجه شول خو له دې نه بې‌خبره وو چی د ګناهونو ګرد (ټول) دفاتر یاداشتونه او تیکلی (ریکارډونه) د هم دوی په وجود کښې محفوظ او ډک کړی شوی پراته دی چی په لازمه وخت کښې به لولؤل او آورول کیږي، له روایاتو څخه معلومیږي چی په محشر کښې به کفار له خپلو جرائمو څخه پخپلو ژبو سره انکار کوی نو په دغه وخت کښې به داسی احکام صادریږی چی د دوی د هغو اعضاؤ او جوارحو شهادت وړاندی کړ شی چی دوی د هغؤی په ذریعه د دغو ګناهونو مرتکب شوی دی لکه چی ګرد (ټول) وجود به ئې پرې شاهدی ورکوی او په دې صورت د دوی د هغه اظهار چی پخپلو ژبو سره ئې ړومبی کړی وو تکذیب کیږی دلته به دوی حیران او مبهوت او هک پک پاتی کیږی او خپلو اعضاؤ ته به وایی چی ای کمبختانو! لړی او ورک شئ! ما خو دغه مدافعه ستاسی له طرفه کوله او جګړی می ستاسی په ګټه (فائده) نښلولی وی حال دا چی تاسی پخپله پخپلو جرائمو اقرار او اعتراف وکړ.

وَقَالُوۡا لِجُلُوۡدِهِمۡ لِمَ شَهِدۡتُّمۡ عَلَيۡنَا ؕ

او وبه وائی (کفار په تعجب سره اعضاؤ او) پوستکیو خپلو ته ولی مو شاهدی وکړه تاسی پر مونږ؟

**تفسیر:** یعنی دغه منکرین به وائی کله چی پخپله ژبه سره مونږ داسی انکار کوو نو پر تاسی داسی کوم مصیبت رالویدلی وو چی خامخا مو په ورښوولو شروع وکړه او په آخر کښې دغه وینا تاسی ته چا درښوده.

قَالُوۡۤا اَنۡطَقَنَا اللّٰهُ الَّذِیۡۤ اَنۡطَقَ کُلَّ شَیۡءٍ

نو وبه وائی (دغه جلود دوی ته چی مونږ پخپله نه یو غږیدلی بلکه) غږولی یو مونږ الله هغه (مطلق قادر) چی غږولی ئې دی هر څیز

**تفسیر:** د هغه لوی ذات قدرت هر ناطق ته د وینا قوت وربښلی دی، نن ورځ هم هغه لوی ذات مونږ ته هم د وینا قوت او قدرت راکړ، نو که مو خبری نه کولی او شیان مو نه وی ښوولی نو څه شی به مو کړی وی. کله چی د هغه مطلق قادر اراده وشی چی یو شی خبری وکړی نو کوم

شي توانيري او قدرت او مجال لري چي وينا ونه کړي، هغه لوی ذات چي ژبي ته ئي د وينا قوت او قدرت وربښلی دی آيا هم دغه قوت لاسو او پښو او د بدن نورو اندامونو ته نه شي بښلی؟ نو دغه دی چي مونږ هم د الله تعالىٰ په اراده دغسی شهادت اداء کړ.

وَهُوَ خَلَقَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢١﴾

حال دا چي الله پيدا کړی يئ تاسی اول ځلی او خاص هم دغه الله ته بيرته بيولی شئ (مجازاتو ته)

**تفسير:** دغه مقوله يا خو د الله تعالىٰ ده يا خو د جلودو ده دواړه محتملی دی.

وَمَا كُنتُمْ تَسْتَتِرُونَ أَن يَشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَا أَبْصَارُكُمْ وَلَا جُلُودُكُمْ

او نه وئ تاسی (په وخت د کولو د دغو فواحشو داسی) چي پټول به مو (دغه فواحش له ويری د دی) چي شاهدی به ورکړی پر تاسی غوږونه ستاسی او نه سترگی ستاسی او نه پوستکی ستاسی (ځکه چي د خپلو اعضاؤ په شهادت مو باور نه درلود (لرلو)

**تفسير:** يعني له نورو ځني به پټه سره مو گناه کوله او له دی نه نه وئ خبر چي ستاسی لاسونه او پښی به ستاسی هغه مخفي اعمال ښرگندوی (ښکاره کوی). ښائي چي تاسی هغه گناه له دغو اندامونو څخه هم پټه کړی وی حال دا چي تاسو هم داسی کول هم غوښتل دغه مو له قدرته او واکه نه وو پوره.

وَلَٰكِن ظَنَنتُمْ أَنَّ اللَّهَ لَا يَعْلَمُ كَثِيرًا مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٢٢﴾

وليکن گمان به کوو تاسی (په وخت د ستر کښي) د دی چي بيشکه الله نه دی عالم پر ډيرو له هغو کارونو چي کول به تاسو.

**تفسير:** يعني اصلاً ستاسی چاری او د عمل طرز ئي ښکاره کوه چي گواکي تاسی د الله تعالىٰ

په محيط علم يقين نه درلود (لرلو) او داسي مو ګڼل چې هر څه مو چې زړه غوارۍ ښائي هم هغسي وکړو څوک مو ويني؟ او راپسي ګرځي؟ که په پوره ډول (طريقه) سره مو يقين او باور کړی وی چې الله تعالیٰ زمونږ له ګردو (تولو) حرکاتو څخه عالم او باخبر دی او د ده په نزد کښې زمونږ مکمل دفتر شته نو له سره به مو داسي شرارت او طغيان نه کوو.

وَذٰلِكُمْ ظَنُّكُمُ الَّذِي ظَنَنتُم بِرَبِّكُمْ أَرْدَاكُمْ فَأَصْبَحْتُم مِّنَ الْخَاسِرِينَ ﴿٢٣﴾ فَإِن يَصْبِرُوا فَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ۖ وَإِن يَسْتَعْتِبُوا فَمَا هُم مِّنَ الْمُعْتَبِينَ ﴿٢٤﴾

او دغه (فاسد ګمان) ستاسي هغه ګمان ستاسي دی چې کوو به تاسي دغه (ګمان) په رب خپل هلاک کړي يئ تاسي (دغه ګمان په آخرت کښې) پس نن وګرځيدئ تاسي له زيان کارانو څخه پس که صبر وکړي دوی (په دې عذاب يا ئې ونه کړي) پس اور (د دوزخ) ځای د هستوګنې دی دوی ته او که رضاء د الله (او قبول د توبې يا رجوع دنيا ته) غواړي دوی پس نه به وی دوی له قبول کړيو شويو (په طلب د رضاء د الله)

**تفسير:** حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليکي «يعنې په دنيا کښې ځينې بلاء په صبر سره آسانيږي هلته که صبر وکړي يا ئې ونه کړي دوزخ د دوی دپاره کور مقرر کړی شوی دی چې له هغه ځايه له سره نشي وتلی او ځينې بلاء دلته په منت خوشامند او تملق سره لرې کيدونکې دی ولې هلته دغه شيان له سره مفيد نه واقع کيږي او هومره زاري خواري او عاجزي چې وکړي نه قبليږي او نه ئې په درد خوري».

وَقَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَاءَ فَزَيَّنُوا لَهُم مَّا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ

او مقرر کړي مو دي دوی ته ملګري (له شياطينو) پس ښائسته کړي ئې دي دوی ته هغه شيزونه چې وړاندې له دوی دي او هغه شيزونه چې وروسته له دوی دي (له هواء او هوس او انکار د آخرت)

**تفسير:** يعنې پر دوی باندې يو يو شيطان مقرر شوی دی څو دوی ته خراب کارونه چې پخوا ئې کړي وو يا وروسته له دې نه ئې کوي ښه وروښيي، او د دوی تيا کوونکي ماضي او مستقبل

هغوی ته ښه او ښکلی وربنکاره کړی او د دغو شیاطینو تقرر هم د دوی د اعراض عن الذکر نتیجه وه . کما قال الله تعالیٰ (فی جزء ٢٥ الرکوع ٤ آیت ٣٦ من سورة الزخرف) ﴿وَمَنْ يَعْشُ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمٰنِ نُقَيِّضْ لَهٗ شَيْطٰنًا فَهُوَ لَهٗ قَرِيْنٌ﴾

وَحَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ فِيْٓ اُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ ۚ

او ثابته شوی ده پر دوی خبره (د عذاب) په هغو امتونو کښی چی په تحقیق تیر شوی دی پخوا له دوی نه له پیریانو او له انسانانو،

**تفسیر:** یعنی هم هغه خبره چی د دوی په نسبت په ابتداء کښی فرمایلی شوی ده ﴿لَاَمْلَـَٔنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ﴾ جزء ١٢ (د هود ١٠ رکوع ١١٩ آیت زموږ د دغه مقدس تفسیر).

اِنَّهُمْ كَانُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿٢٥﴾ ع

بیشکه چی دوی وو زیانکاران (په دواړو جهانونو کښی)

**تفسیر:** کله چی انسان ته خساره واقع کیږی نو هم داسی سامان ورمهیاء کیږی.

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَسْمَعُوْا لِهٰذَا الْقُرْاٰنِ وَالْغَوْا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُوْنَ ﴿٢٦﴾

او وائی هغه کسان چی کافران شوی دی (په وخت د قرائت د قرآن) چی مه اوروئ غوږ مه ږدئ تاسی دغه قرآن ته (چی محمد ئی لولی) او شورماشور واچوئ په (وخت د لوستلو د) ده کښی ښائی چی تاسی غالب شئ (پری او له تبلیغه ئی ساکت کړئ)

**تفسیر:** یعنی د عظیم‌الشان قرآن غږ د برق په شان د اوریدونکیو پر زړونو اثر غورځوی او هر څوک ئی چی اوری سخت تاثیر پری کوی نو څکه د دغه تاثیر د انسداد دپاره کفارو دغه یوه

طریقه ځانته غوره کړی ده هر کله چی قرآن لوستلی کیږی دوی غوږ ورته نه نیسی او دومره شورماشور اچوی چی نور ئی هم وانه وریدی شی او داسی به ئی ګڼل چی زمونږ په دغه شورماشور سره د قرآن غږ پورته نشی او پر خلقو خپل تاثیر ونه غورځوی. نن ورځ هم جاهلان هم داسی تدابیر کوی چی د کار د خبرو په مقابل کښی شورماشور کوی څو بل څوک ئی وانه وری مګر د حقانیت او صداقت کړنګهار او تنهار کله د میاشو او مچانو په بنهار پټ او مغلوبیدی شی؟ او سره له دغسی تدابیرو هم د حق غږ د زړونو تر ژورو پوری رسیږی او هم هغه هلته خپل اثر غورځوی.

فَلَنُذِيقَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا عَذَابًا شَدِيدًا وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَسْوَأَ الَّذِي كَانُوا يَعْمَلُونَ ۝٢٧

(فرمائی الله تعالیٰ چی) پس خامخا وبه څکوو مونږ هرومرو (خامخا) هغو کسانو ته چی کافران شوی دی عذاب سخت او خامخا جزاء به ورکړو مونږ هرومرو (خامخا) دوی ته ډیره بده سزا د هغو اعمالو چی وو دوی چی کول به ئی.

**تفسیر:** یعنی له دی نه به زیات خراب کار بل څه وی چی دی پخپله هم د پند او نصیحت خبری وانه وری او نور خلق هم پری نه پرږدی چی نصیحت ته غوږ کیږدی.

ذَٰلِكَ جَزَاءُ أَعْدَاءِ اللَّهِ النَّارُ ۖ لَهُمْ فِيهَا دَارُ الْخُلْدِ ۖ جَزَاءً بِمَا كَانُوا بِآيَاتِنَا يَجْحَدُونَ ۝٢٨

دغه (سخت عذاب جزاء ده د دښمنانو د الله (یعنی) چی اور دی شته دوی ته په دغه اور کښی کور د همیشه والی (دپاره د جزاء) په جزاء ورکولو په سبب د هغه چی وو دوی (په دنیا کښی) چی په آیتونو زمونږ (قرآن) انکار به ئی کوو.

**تفسیر:** یعنی په زړه په ښه شان پری پوهیدل لیکن له ضده او عناده او تعصبه به ئی تری انکار کوو.

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا رَبَّنَآ اَرِنَا الَّذَيْنِ اَضَلّٰنَا مِنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ نَجْعَلْهُمَا تَحْتَ اَقْدَامِنَا لِيَكُوْنَا مِنَ الْاَسْفَلِيْنَ ﴿٢٩﴾

او وبه وائی (په اور کښې) هغه کسان چې کافران شوی دی ای ربه زمونږ وښیه مونږ ته هغه (دوه تنه) چې ګمراهان کړی ئې ؤ مونږ له پیریانو (ابلیس) او له انسانانو (قابیل) چې وګرځوو (واچوو) دوی لاندی د قدمونو خپلو دپاره د دی چې شی دوی له ښکته (سپکو ذلیلانو خلقو څخه)

**تفسیر:** یعنی خیر مونږ خو په آفت کښې اخته شوو لیکن له انسانانو او پیریانو ځنی هغه شیاطین چې زمونږ د اغواؤ او د غولولو سبب ګرځیدلی دی او مونږ د دوی له لاسه په دغه مصیبت کښې مبتلا شوی یو له مونږ سره ئې مخامخ کړئ څو ئې مونږ تر خپلو پښو لاندی ذری ذری او لتاړ کړو او په نهایت ذلت او خواری سره ئې د دوزخ په ډیری ښکتنی طبقی کښې وغورځوو او په دغه ډول (طریقه) خپل انتقام تری واخلو او لږ څه خپل زړونه پری ساړه کړو.

اِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةُ اَلَّا تَخَافُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَبْشِرُوْا بِالْجَنَّةِ الَّتِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ﴿٣٠﴾

بیشکه هغه کسان چې ویلی ئې دی صدقاً له زړه چې رب زمونږ الله دی بیا تینګ ولاړ وی (په دغه توحید او نورو اعمالو د دین) رانازلیږی به پر دوی پرښتی (عند النزع والبعث یا فی القبر چې داسی به وائی) مه ویریږئ او مه خپه کیږئ او خوشاله اوسئ تاسی په جنت هغه چې وئ تاسی چې وعده ئې درسره کړی شوی ده (په ژبی د انبیاؤ الله سره)

**تفسیر:** یعنی په زړه سره ئې اقرار وکړ او پر هغه قائم پاتی شو او د الله تعالیٰ په ربوبیت او الوهیت کښې ئې بل څوک شریک ونه دراوه او نه له دغه یقین او اقرار څخه د مرګ تر لحظی پوری وانه وښته او نه ئې خپل رنګ بدل کړ هر هغه شی ئې چې په ژبه سره ویلی وو، د هم هغه پر مقتضاء عملاً او اعتقاداً تینګ پاتی شو او د الله تعالیٰ د کامل ربوبیت حق ئې په پوره ډول (طریقه) سره وپیژاند او هر هغه عمل ئې چې وکړ خالص د ده د خوښی او شکر ګزاری دپاره ئې وکړ، د خپل رب ګرد (تول) عائد کړی حقوق او فرائض ئې په ښه شان سره وپیژندل او په

ښه ډول (طريقه) سره ئې اداء او په ځاى ئې راوړل، الغرض له ماسواء الله څخه ئې مخ واړاوه او يوازې د هم هغه په جانب متوجه شو او د هم ده پر سمه صافه لاره رهى (روان) شو. پر داسې مستقيم الحال بندګانو د مرګ په وخت او د قبر د رسيدلو په فرصت او وروسته له هغه د بيا ژوندى راپاڅيدلو په وخت کښې پرښتې نازليږي او دوى ته تسکين، تسلي ورکوى او د جنت د دخول زيرى ورا‌ورى او ورته وائي چې اوس تاسې ته له هيڅ جهته د ويرى او د انديښنې موقع نه ده پاتې. د فانى دنيا ټول فکرونه او غمونه ختم شوى دى او د بل کوم راتلونکي آفت او مصيبت انديښنه نه ده پاتې اوس په ابدى ډول هر قسم جسمانى او روحانى خوښي او عيش تاسې لره دى او د جنت هغه مواعد چې د انبياؤ عليهم السلام په ژبو له تاسې سره کړى شوى وو هغه ګرد (ټول) اوس له تاسې سره ايفاء کيدونکي دى. دا هغه دولت او نعمت دى چې د هغه د رارسيدلو د يقين له حاصليدلو څخه وروسته هيڅ يو غم او فکر د انسان په شاو خوا کښې نشي ګرځيدلى.

**تنبيه:** دير ممکن دى چې پر متقينو او ابرارو په دغه دنيوى ژوندون کښې هم د پرښتو يو قسم مخصوص نزول وشي چې د الله تعالىٰ په حکم سره دوى ته د دوى په دينى او دنيوى امورو کښې د بهترى او ښيګڼې (فائدې) او نورو ښو خبرو الهام وکړى چې د دوى د شرح الصدر، تسکين او اطمينان موجب شي. لکه چې د دوى بالمقابل يو دوه آيتونه پخوا تير شول چې پر کفارو شياطين مسلط دى څو رذائل او قبائح دوى ته ښه ورښکاره کړى او د دوى د اغواؤ او اضلالو وسائل ورپيدا او مهياء کړى. او په بل ځاى کښې د شياطينو په حق کښې د «تنزل» لفظ استعمال شوى دى (کما قال الله تعالىٰ فى جزء ١٩ الركوع (١١) آيت ٢٢٢ - ٢٢٣ من سورة الشعراء) ﴿ تَنَزَّلُ عَلٰى كُلِّ اَفَّاكٍ اَثِيْمٍ يُلْقُوْنَ السَّمْعَ وَاَكْثَرُهُمْ كٰذِبُوْنَ ﴾ په هر حال د مفسرينو په نزد دغه معنى هم کيدى شي، او په دغه تقدير وروستنى آيت ﴿ نَحْنُ اَوْلِيٰٓؤُكُمْ فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ﴾ سره په دير ښه ډول لګيږى. والله اعلم.

## نَحْنُ اَوْلِيٰٓؤُكُمْ فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِى الْاٰخِرَةِ ۚ

(بل داسې ورته ووائي ملائکې) مونږ يو دوستان ستاسې په دغه ژوندون لږ خسيس کښې (په حفاظت نصرت) او په آخرت کښې (چې به درڅخه لرى کړو وحشت د قبر او وبه مو رسوو جنت ته)

**تفسير:** ځينو دغه د الله تعالىٰ کلام ښوولى دى يعنى د پرښتو کلام له دى نه پخوا ختم شوى دى. او د اکثرو په نزد دغه هم د پرښتو مقوله ده. ګواکې پرښتې دغه قول د دوى په زړونو کښې الهام کوى او د دوى حوصله او همت زياتوى. ممکن دى چې ځينو بندګانو ته بالمشافه هم هم دغومره الفاظ ووائي. او ممکن دى چې موت ته نژدې يا بعد الموت ورته وويلى شي، نو په دغه

تقدیر د ﴿ نَحْنُ اَوْلِیٰٓؤُکُمْ فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا وَفِی الْاٰخِرَةِ ﴾ مطلب به داسی کیږی چی مونږ
په دنیا کښی هم ستاسی ملګری او رفیقان وو چی د الله تعالیٰ په حکم به مو په باطنی دول (طریقه) سره ستاسی امداد او معاونت کوو او په آخرت به هم ستاسی رفیقان او ملګری یو چی هلته ستاسی شفاعت یا د اعزاز او د اکرام انتظام وکړو.

وَلَکُمْ فِیْهَا مَا تَشْتَهِیْٓ اَنْفُسُکُمْ وَلَکُمْ فِیْهَا مَا تَدَّعُوْنَ ﴿٣١﴾

او شته تاسی ته په دغه جنت کښی هغه نعماء چی مینه ورته کوی نفسونه ستاسی او شته تاسی ته په دغه (جنت) کښی (لذاتو کراماتو) چی غواړئ ئی تاسی

**تفسیر:** یعنی د هر شی خواهش، رغبت او هوس چی تاسی پخپلو زړونو کښی وکړئ یا هر هغه شی چی په ژبه سره ئی وغواړئ هغه ټول به تاسی ته درکولی کیږی. د الله تعالیٰ په خزانو کښی د هیڅ شی کمی او تقلیل نشته.

نُزُلًا مِّنْ غَفُوْرٍ رَّحِیْمٍ ﴿٣٢﴾

میلمستیا ده له (جانبه د الله) ښه ښوونکی (د خطیاتو) ډیر رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره).

**تفسیر:** یعنی ښه وپوهیږئ چی هغه غفور رحیم به له خپل میلمه سره څومره ښه سلوک وکړی؟، او دغه څومره یو لوی عزت او توقیر دی چی یو ضعیف بنده د خپل رب العزت میلمه شی.

وَمَنْ اَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَآ اِلَی اللّٰهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَّقَالَ
اِنَّنِیْ مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ ﴿٣٣﴾

او څوک دی ډیر ښائسته (بلکه نشته) له جهته د وینا له هغه چا چی بولی (خلق) طرف د الله ته او عمل کوی نیک او وائی بیشکه زه له مسلمانانو غاړه ایښوونکیو یم (احکام الله ته).

**تفسیر** پخوا په ﴿ اِنَّ الَّذِیْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا ﴾ کښې د هغو مخصوصو بندګانو ذکر وو چې هغوی یواځې د یوه الله پر الوهیت خپل اعتقاد ټینګ کړی وو او د خپل استقامت ثبوت ئې ورکړی ؤ دلته د هغوی د یوه بل اعلیٰ مقام ذکر فرمائی یعنی خورا (ډیر) ښه سړی هغه دی چې خپل ځان پاک الله ته بیخی وسپاری او د الله تعالیٰ د پوره طاعت او کامل انقیاد اعلان وکړی، او هم دغه غوره دین او سمه لاره ځانته اختیاره کړی او د ده قول او فعل نورو بندګانو ته د الله تعالیٰ په طرف د راتللو دپاره ډیر ښه محرک، مؤثر او سائق شی او دوی د دنیا نورو خلقو ته هم د الله تعالیٰ په طرف دعوت ورکړی او د دین په طرف ئې جذب او کش کړی. او د هغې نیکی په طرف چې دی خلق رابولی دی پخپله هم پرې عامل وی. او د الله تعالیٰ په نسبت د خپلې بندګی او احکام منلو د اعلان په وخت کښې هیچیری او هیڅکله ونه ویریږی. او نه څه اندیښنه ورته پیدا شی. د ده د قومیت طغراء ښائی چې د اسلام مذهب وی او له هر قسم بخل، امساک، تعصب، او نورو عنادیه وو خبرو څخه لری وګرځی، او د خپلې خالصی مسلمانی منادی وکړی! او د هغه اعلیٰ مقام په لوری خلقو ته بلنه او دعوت کوی چې سیدنا و مولانا حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وعلیٰ آله واصحابه وسلم د هغه دپاره مبعوث شوی ؤ، او پخپله سیدالمرسلین وخاتم النبیین صلی الله علیه وسلم او صحابه ؤ رضوان الله تعالیٰ علیهم اجمعین پر هغې لاری خپل مقدس حیات او مجاهدات صرف کړی دی. دغه آیت په شان د محمد صلی الله علیه وسلم کښې دی یا مراد تری صحابه رضی‌الله تعالیٰ عنه یا عالمان یا محتسبان یا مؤذنان یا نور هغه څوک دی چې پکښې دغه ښه صفات وی.

---

وَلَا تَسْتَوِی الْحَسَنَةُ وَلَا السَّیِّئَةُ ط اِدْفَعْ بِالَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ فَاِذَا الَّذِیْ بَیْنَكَ وَبَیْنَهٗ عَدَاوَةٌ كَاَنَّهٗ وَلِیٌّ حَمِیْمٌ ﴿٣٤﴾

---

او نه برابریږی سره نیکی او نه بدی (په جزاء او حسن‌العاقبة کښې) دفعه کوه (ته هغه بدی) په هغه خصلت سره چې هغه ډیر ښه وی پس ناڅاپه هغه څوک چې په منځ ستا او په منځ د هغه کښې عداوت دښمنی وی لکه چې دی به دوست وی ډیر مهربان

---

**تفسیر:** په دغو آیتونو کښې یوه رښتین داعی الی الله ته د هغو ښو اخلاقو تعلیم ورکوی چې دوی ورته ضرورت لری یعنی ښه وپوهیږه چې بدی له نیکی سره، او نیکی له بدی سره قطعاً نشی برابریدی، او د دواړو تاثیرات سره بیل دی. بلکه یوه نیکی له بلې نیکی سره، او یوه بدی له بلې بدی سره په اثر او نتیجه کښې متمایزی دی. لهٰذا د یوه قانت مؤمن مخصوصاً د یوه داعی الی الله مسلک ښائی داسې وی چې د بدی جواب دی له سره په بدی سره ورنه کړی بلکه

حتی الامکان د بدی مقابله دی په نیکی سره وکری. که څوک ورته کومه سخته خبره وکری یا بده معامله ورسره وکری نو د هغه په مقابل کښې دی دی داسی رویه او د عمل طرز ځان ته غوره کری چی له هغه څخه بهتر او ښه وی. مثلاً د قهر او غصی په مقابل کښې دی له حلم او تحمل څخه کار واخلی! او د کنځلو جواب دی په تهذیب او انسانیت سره په دعاء او د سختی جواب دی په نرمی او مهربانی سره ورکری د دغه وضعیت او مسلک له غوره کولو څخه به په نتیجه کښې ژر دربشکاره شی چی دیر سخت دښمن به هم ستاسی په مقابل کښې نرم او پوست شی. اګر که په زړه او اساسی دول (طریقه) سره به ستا دوست او خیر غوښتونکی نه ګرځی خو په ښکاره دول (طریقه) سره به دی دوست ګرځی، او متدرجاً دغه ظاهری دوستی په باطنی دوستی تبدیل او تحویل مومی او د دښمنی او عداوت ګرد (تول) خیالات د ده له زړه او افکارو څخه بیخی وځی کما قال الله تعالیٰ ﴿ عَسَى اللَّهُ أَن يَجْعَلَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ الَّذِينَ عَادَيْتُم مِّنْهُم مَّوَدَّةً ﴾ (د الممتحنة (۲) رکوع ۷ آیت ۲۸ جزء) هو! که د کوم سړی د طبیعت اقتضاء هم داسی وی چی د لرم او منګور په شان بی له ضرره او اذیته بل شی انسان ته نه رسوی نو هغه مستثنیٰ او جلا (جدا) خبره ده چی پر داسی افرادو نرمی، ښه اخلاق، صبر، تحمل هیڅ مثبت اثر نشی غورځولی. مګر دغسی افراد دیر لږ وی په هر حال هغو کسانو ته چی د دعوت الی الله پر منصب فائز دی لازم دی چی په دیر صبر، استقلال، ښه خلق تحمل سره کار وکری!.

---

وَمَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَمَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ذُو حَظٍّ عَظِيمٍ ﴿٣٥﴾

---

او نه ورکول کیږی دا (نیک خصلت د بدی دفع په نیکی سره) مګر هغو کسانو ته چی صبر تحمل کوی او نه ورکول کیږی دا (نیک خصلت) مګر خاوند د برخی دیری لویٔ ته

---

**تفسیر:** یعنی دیره لویه حوصله په کار ده چی انسان په هغی سره د بدو خبرو تحمل وکری شی او د هغه مقابله په ښه سره وکری. دغه ښه اخلاق او اعلیٰ خصلت د الله تعالیٰ له درباره دیرو ښو او خوش قسمته او اقبالمنو سړیو ته وربښلی کیږی. (ربط) تر دی ځایه پوری د هغه حریف او دښمن سره د معاملی او ښه سلوک ښوونه وه چی په ښو معاملو او ښو اخلاقو سره متاثر کیدی شی لیکن ځنی داسی دښمنان هم پیدا کیږی چی په هیڅ حالت او صورت سره له دښمنی څخه لاس نه اخلی، که څوک ورسره هومره ملاطفت او محبت وکری د هغه د شقاوت او عداوت مراتب لا پسی زیاتیږی او هغه تل په هم دغه فکر او ذکر وی چی هرومرو (خامخا) تاته څه ضرر او اذیت دوررسوی نو د داسی پخو شیطانانو له اضرار او ایذاء څخه د ځان ساتلو تدبیر اوس دغسی

الله تعالیٰ بیان فرمائی چی

وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَٰنِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٣٦﴾

او که ورسیږی تاته له طرفه د شیطان څه تباهی، وسوسه (چی دی واړوی تا له دغه ښه خصلت) پس پناه ونیسه په الله (له شره د ده) بیشکه الله هم دی دی ښه اوریدونکی ښه عالم

**تفسیر:** یعنی د داسی شیطان په مقابل کښی له نرمی او عفوی او په تیریدلو سره کار نه چلیږی یواځی د هغه د نجات دپاره یو تدبیر شته چی د الله قدوس جل و اعلیٰ شانه واعظم برهانه په پناه کښی راشئ! دا هغه مضبوطه کلا ده چی هغی ته له سره شیطان نشی رسیدی. که تاسی واقعی په اخلاص او زاری سره د الله تعالیٰ په حضور کښی دعاء وکړئ نو هغه به ضرور تاسی ته پناه درکوی ځکه چی الله تعالیٰ د خپلو مخلوقاتو هر غږ او بلنه ښه آوری او ښه پری پوهیږی چی کوم یو په څومره اخلاص او تضرع سره ماته دعاء او نداء کوی؟ حضرت شاه صاحب د دغه آیت د ربط په نسبت له پخوانی سره داسی لیکی «یعنی که بی اختیاره قهر او غصه درشی نو دغه د شیطان مداخله ده» شیطان نه غواړی چی تاسی په «حسن‌الاخلاق» موصوف اوسئ او د دعوت الی‌الله په مقصد کښی بریالی (کامیاب) او فائزالمرام شئ.

وَمِنْ ءَايَٰتِهِ الَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ

او ځینی له دلائلو (د قدرت) د الله شپه او ورځ ده (چی په یوه کښی لباس او په بل کښی معاش دی) او (بل ځینی له دلائلو) لمر او سپوږمی دی

**تفسیر:** له دعوة الی الله سره څو سماویه او ارضیه دلائل هم بیان فرمائی څو په هغو سره داعی الی الله ته د الله تعالیٰ د عظمت او وحدانیت او بعث بعدالموت او نورو اهمو مسائلو په پوهولو کښی مدد ورسیږی په دغه ضمن کښی دی لوری ته هم اشاره وشوه چی له یوه جانبه د الله تعالیٰ مخصوص بندګان پخپل قول او عمل سره خلق د الله تعالیٰ په طرف رابولی او له بل جانبه د نمر، قمر، آسمان، ځمکی او د نورو مخلوقاتو عظیم الشان نظم او نسق غور او دقت کوونکیو ته د هغه واحد الله په طرف د راتللو دعوت ورکوی.

**وفی کل شئ له آیة تدل علی انه واحد**

انسان ته لازم دی چی په دغو تکوینيه ؤ دلائلو کښې هم هغسې بند پاتی نشي لکه چی نور ډير اقوام پکښې بند پاتي دی بلکه ضروری ده چی د هغه لامحدوده قدرت لرونکی مالک‌الملکوت په مخ د خپل عجز او تسليم سر ښکته کړی چی دغه ګرد (تول) د ده د قدرت او عظمت دلائل دی او د هغه په حکم سره له عدمه په وجود راغلی دی او ممکن دی چی پر دغه هم تنبيه وی څرنګه چی شپه او ورځ، او د دغو دواړو ښو لمر او قمر يو د بل په مقابل کښې دی او پاک الله تل په دغو دواړو کښې رد او بدل کوی هم داسې هغه پر دغه هم قدير دی چی د دعوت الی الله په رڼا (رڼرا) کښې او د داعی د همت په علويت او د ده د ښو اخلاقو په ميمنت د دغه قرآن د مخاطبينو وضعيت ته هم تبديل او تحويل ورکړی او دغه توره تياره فضاء په يوه روښانه رڼا (رڼرا) سره بدله کړی.

---

لَا تَسْجُدُوا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴿٣٧﴾

---

مه کوئ سجده تاسی دپاره د لمر او نه دپاره د سپوږمی او سجده کوئ تاسی خاص هغه (الله) ته چی پيدا کړی ئی دی دا (څلور علامی) که چيری يئ تاسی چی خاص هم ده (الله) ته عبادت کوئ

---

**تفسير:** د لمر، سپوږمی او د نورو شيانو عبادت کوونکو به هم په ژبه سره هم داسی ويل چی زمونږ غرض د دغو شيانو له عبادته د پاک الله عبادت دی مګر پاک الله دغه وښوول چی دغه شيان بيخی د عبادت لياقت نه لری د عبادت لائق يواځی واحد الله دی او د کوم غير الله عبادت کول د قدوس الله څخه له بغاوت کولو سره مرادف دی.

---

فَإِنِ اسْتَكْبَرُوا فَالَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ يُسَبِّحُونَ لَهُ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَهُمْ لَا يَسْأَمُونَ ﴿٣٨﴾ السجدة

---

پس که لوئی وکړه دوی (له سجدی د الله نو الله مستغنی دی) پس هغه څوک چی په نزد د رب ستا دی (له پرښتو) تسبيح وائی دغه (الله) ته هم په شپه کښې او هم په ورځ کښې حال دا چی دوی (له دغه تسبيح او عبادته) نه ستړی کيږی.

**تفسیر:** یعنی که غرور، تکبر، لوئی د حق له قبوله مانع ده او د توحید د دلائلو له وضوح سره د واحد الله د عبادت په جانب نه غواړی چی راشی، نو نه دی راځی دوی خپلو ځانونو ته نقصان رسوی. الله تعالیٰ له سره د دوی پروا نه لری هغه لوی ذات چی د ده عظمت او جبروت داسی وضعیت لری چی بی حسابه مقربین ملائک شپه او ورځ د ده په عبادت، تسبیح او تقدیس کښی داسی مشغول او لګیا دی چی له سره پکښی نه خپه، نه ستړی او ستومانیږی نو د دوی په مقابل کښی دغه خواران څه شی دی. دوی په دغو دروغو تکبر، او غرور خامخا خپلو ځانونو ته ضرر او نقصان رسوی.

وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنَّكَ تَرَى الْاَرْضَ خَاشِعَةً فَاِذَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَآءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ ؕ اِنَّ الَّذِيْٓ اَحْيَاهَا لَمُحْيِ الْمَوْتٰى ؕ اِنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٣٩﴾

او ځینی له دلائلو (د قدرت) د دغه (الله) دا دی چی بیشکه ته وینی ځمکه وچه کلکه پس هر کله چی نازلی کړو مونږ پر دغی (ځمکی) اوبه (د باران) نو سره وخوځیږی او وپړسیږی (او شنه شی) بیشکه هغه الله چی ژوندی کړی ده دا (ځمکه) خامخا ژوندی کوونکی دی د مړیو بیشکه الله پر هر شی باندی (چی اراده وفرمائی) ښه قادر دی (چی ځینی ئی هم دغه احیاء او اماتت دی)

**تفسیر:** یعنی ځمکی ته وګورئ چی دغه خواره چپ چاپ، ذلیل او سپک تر درانه بار لاندی ده د وچوالی په وخت کښی ئی له هری خوا څخه دوړی او خاوری پورته کیږی لیکن هم دا چی د باران پرخه پری ولویده یو ځلی طراوت، رونق، تازګی او نشونما او د لیدلو وړ (مستحق) تحولات پکښی څرګندیږی (ښکاره کیږی). آخر دغه اقلاب د کوم ذات د قدرت د لاس تصرف او نتیجه ده؟ هغه الله جل جلاله چی وچی کلکی مړی ځمکی ته طراوت، شینوالی او ژوندون وربښلی دی آیا هغه پر دغه نه دی قدیر چی د انسانانو په ابدانو کښی بیا روح واچوی؟ او آیا هغه مطلق قادر نشی کولی چی مړو زړونو ته د دعوت الی الله له تاثیره بیا له نوی سره ژوندون او جدید حیات ورعطاء کړی؟ بیشکه الله تعالیٰ هر شی کولی شی! او د الله تعالیٰ د قدرت په مقابل کښی هیڅ شی مانع او مزاحم نشی کیدی.

إِنَّ الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي آيَاتِنَا لَا يَخْفَوْنَ عَلَيْنَا ۗ أَفَمَن يُلْقَىٰ فِي النَّارِ خَيْرٌ أَم مَّن يَأْتِي آمِنًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ ۖ إِنَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٤٠﴾

بیشکه هغه کسان چې میلان کوی له حقه باطل ته په آیتونو (د قرآن) زمونږ کښې نه دی پټ دوی پر مونږ (نو د دغه الحاد جزاء به ورته ورکړو) آیا پس هغه څوک چې وغورځولی شي په اور کښې غوره دی یا هغه څوک چې رابه شي په امن (له عذابه) په ورځ د قیامت کښې (نو تهدیداً دوی ته ویلې کیږی چې) کوئ تاسی هر څه چې مو خوښ وی (ای کفارو) بیشکه الله پر هغو اعمالو چې کوئ ئې تاسی ښه لیدونکی دی (نو جزا به د اعمالو درکړی)

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ په لوری د دعوت ورکوونکیو له ژبو څخه د تنزیلیه ؤ آیتونو له آوریدلو او د دهر پر قرطاس د تکوینیه وو آیتونو له لیدلو څخه هم چې دغه خلق له کږو تللو بیرته نه ګرځي او په سمو صافو خبرو کښې واهي او تباهي شبهات پیدا او ترې کږې وږې خبرې جوړوی یا ئې خامخا سره اړوی رااړوی او یو غلط مطلب ترې وباسی یا خوشې چټی (بیکاره) بل کوم عذر او بهانه وړاندې کوی او د آیتونو په منلو کښې وړاندی وروسته تحریف او تبدیل کوی د داسې کږو تلونکیو پر اوضاعو پاک الله ډیر ښه پوهیږی ممکن دی چې دغه پر خپلو مکاریو او چالاکیو ډیر مغرور وی مګر له الله تعالیٰ څخنی د دوی هیڅ احوال نه دی پټ څه وخت چې دوی له الله تعالیٰ سره مخامخ ودرول شي هلته به دوی وپوهیږی چې فی‌الحال الله تعالیٰ هغوی ته مهلت ورکړی ؤ ځکه چې الله تعالیٰ سم د لاسه مجرمین نه نیسی له هم دی جهته وروسته فرمائی ﴿ اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ ۖ إِنَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴾ یعنی ښه دی څرنګه چې پوهیږئ هم هغسی وکړئ مګر ښه وپوهیږی چې ستاسی ګرد (تول) حرکات د پاک الله اعظم برهانه تر نظر لاندی دی او په یوه ورځ د هغه سزا تاسی ته یو ځای پوره درکوی او بالاخر د هغه ربر (تکلیف) او زحمت تاسی موندونکی یئ اوس تاسی پخپله فکر او غور وکړئ هغه سړی چې د خپلو شرارتونو په علت په ډیر سخت سوځوونکی اور کښې ولویږی او یو بل سړی چې د خپل شرافت او سلامت خوښولو په برکت تل په امنیت او طمانیت کښې اوسیږی آیا له دغو دواړو څخه کوم یو ښه او بهتر دی؟

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِالذِّكْرِ لَمَّا جَاءَهُمْ ۖ

بیشکه هغه کسان چې کافران شوی دی په ذکر قرآن کله چې راغی دوی ته (نو ژر به په عذابیږی دوی)

**تفسیر:** یعنی دوی خامخا د خپلو کړو تللو په علت د پند او نصیحت په خبرو کښی شبهات پیدا کوی حال دا چی په هغه کښی د دروغو ځای او گنجائش له سره نشته. هغه ذکر، پند نصیحت څه شی دی؟ یو صاف، واضح، مضبوط او محکم کتاب چی له هغه څخه ما سواء له یوه ناپوه، احمق او شریر انسان بل هیڅوک انکار نشی کولی.

وَاِنَّهٗ لَكِتٰبٌ عَزِيْزٌ ﴿٤١﴾ لَّا يَاْتِيْهِ الْبَاطِلُ مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهٖ ؕ تَنْزِيْلٌ مِّنْ حَكِيْمٍ حَمِيْدٍ ﴿٤٢﴾

حال دا چی بیشکه دغه قرآن خامخا کتاب قوی (نادر) دی نه راځی دغه قرآن ته باطل (نه) د مخی (له طرفه) د دی او نه د شا (له طرفه) ئی (بوجه من الوجوه) رالیږلی شوی دی له طرفه د حکمت والا ثناء ویلی شوی (الله).

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ په رالیږلی شوی کتاب کښی که دروغ راغلی دی نو له کوم ځای څخه راغلی دی؟ او د هغه کتاب د ساتلو ذمه چی هغه پخپله غاړه اخیستی ده نو ناحق او باطل څه قوت او مجال لری چی د هغه شاوو خوا ته ورنژدی شوی وی.

مَا يُقَالُ لَكَ اِلَّا مَا قَدْ قِيْلَ لِلرُّسُلِ مِنْ قَبْلِكَ ؕ اِنَّ رَبَّكَ لَذُوْ مَغْفِرَةٍ وَّذُوْ عِقَابٍ اَلِيْمٍ ﴿٤٣﴾

نه ویل کیږی تاته (ای محمده!) مگر (هم هغسی) وینا چی په تحقیق ویلی شوی وه دپاره د هغو رسولانو چی پخوا له تا تیر شوی دی، بیشکه رب ستا خامخا خیښتن (مالک) د مغفرت دی (مؤمنانو لره) او خیښتن (مالک) د عذاب دردناک دی (کافرانو لره)

**تفسیر:** یعنی د منکرینو کومه معامله چی له تاسی سره ده هم دغه معامله به د هری زمانی منکرینو له خپلو انبیاؤ سره درلوده (لرله). انبیاوو به تل د دوی دپاره خیر غوښت او هغوی به د هغه په مقابل کښی هر راز (قسم) تکالیف او مصائب خپلو انبیاؤو ته رسول بیا هم هغسی چی هغو انبیاؤ پر هغو ربرو (تکلیفونو) او سختیو کښی صبر او تحمل کوو تاسی هم پر دغو

مصاعبو صبر او تحمل وکړئ په نتیجه کښې به ځینې توبه کوی او پر سمه لاره به راځی چی د دوی دپاره د الله تعالیٰ له جانبه معافی او بښنه ده او څه نور کسان به پر خپلو هم هغو کړو تللو، ضد او عناد تینګ او قائم پاتی کیږی چی بالاخر دوی د دردناکی سزا مستوجب کیږی.

وَلَوْ جَعَلْنٰهُ قُرْاٰنًا اَعْجَمِيًّا لَّقَالُوْا لَوْلَا فُصِّلَتْ اٰيٰتُهٗ ؕ ءَاَعْجَمِيٌّ وَّعَرَبِيٌّ ؕ

او که ګرځولی مو وی. دغه قرآن په ژبه د عجمو نو خامخا ویلی به وو (دغو د عربو کفارو) ولی واضح بیان شوی نه دی آیتونه د دی (په ژبی فصیحی عربی دغه قرآن) آیا عجمی دی او (نبی ئی) عربی دی

**تفسیر:** یعنی که یوه سری داسی اراده کړی وی چی یوه خبره نه منی نو په زرګونو حیلی او بهانی ورته جوړولی شی. د معظمی مکی کفارو کله چی بل شی ونه موند نو په داسی ویناوو ئی شروع وکړه چی «صاحبه! مونږ خو د عربی نبی په معجزی باندی هلته قائل او معترف کیدو چی دغه قرآن ماسواء له عربی ژبی په بلی کومی ژبی راغلی وی» لیکن فرض ئی کړئ که هم داسی هم کیدی نو د هغه کتاب د دروغجن کولو دپاره به دوی داسی ویل «ښه صاحبه! چیری داسی بی اساسه او بی منطقه خبره به لیدلی شوی وی چی پخپله رسول عربی او د ده قوم چی د دغه کتاب ړومبنی مخاطبین دی هم عرب مګر دغو ته دغسی کتاب رالیږلی شوی دی چی پر یوه توریی هم دوی نشی پوهیدی.

قُلْ هُوَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هُدًى وَّشِفَآءٌ ؕ

ووایه ته (ای محمده! دوی ته) چی دغه قرآن دپاره د هغو کسانو چی ایمان ئی راوړی دی هدایت او شفاء دی

**تفسیر:** یعنی لغو او چتی (بیکاره) شبهات خو به له سره نه ختمیږی هو! دغومره تجربه هر یو سری کولی شی هغو کسانو چی پر دغه مقدس کتاب ایمان راوړی دی او پری عمل کوی په څرنګه عجیب هدایت او بصیرت عقل او پوه نائل او فائز شوی دی او د دوی د سلهاوو کلونو او قرنو امراض او رنځوری ئی لری او ورکه کړی ده او له دوی څخه ئی ظاهری او باطنی روغ رمټ انسانان جوړ کړی دی.

وَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ فِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرٌ وَّهُوَ عَلَيْهِمْ عَمًى ؕ

او هغه کسان چې ایمان نه راوړي په غوږونو د دوی کښې درونده والي دی حال دا چې دغه (قرآن) پر دوی باندې ړوندوالي پټوالي دی (نو نه ویني دوی هغه جمال او کمال د ده)

**تفسیر:** یعنی هم هغسی چې د خفاش (شکالی ـ ښاپیرک) سترګی د لمر په رڼا (رڼرا) کښې ترلې کیږي او دې هیڅ یو شي پرې نشي کتلی دغه منکرین هم د قرآن په رڼا (رڼرا) کښې ړانده او هیڅ یو روڼ شي نشي لیدلی نو په دغه کښې د قرآن څه قصور دی؟ منکرینو ته لازم دي چې د خپلو لیدلو دغه ضعف ته ښه ځیر شي او محسوس ئې کړي! او بیا د هغې معالجې ته متوجه شي!

اُولٰٓئِكَ يُنَادَوْنَ مِنْ مَّكَانٍ بَعِيْدٍ ﴿٤٤﴾

دغه کفار (ګواکې داسې دي لکه چې) غږ ورته کوو شي له ځایه لرې (او په کیفیت ئې نه پوهیږي).

**تفسیر:** یعنی که یو سړی ته له لرې ځخه غږ او ناري وکړي هغه ئې نه آوري او که وائې وري ښه پرې نه پوهیږي هم داسې د قرآن منکرین هم د دغه صداقت او منبع د صداقت څخه دومره لرې لویدلي دي چې د حق غږ د هغو د زړه غوږو ته له سره نشي رسیدی او که چیرې هم وررسیږي نو دوی د هغه پر مطلب په ښه شان سره نشي پوهیدی.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ فَاخْتُلِفَ فِيْهِ ؕ

او خامخا په تحقیق ورکړی وو موږ موسیٰ ته کتاب (توریت) پس اختلاف وکړ شو په (تصدیق او تکذیب د) هغه کښې

**تفسیر:** یعنی هم هغسی چې نن د «قرآن» د منونکیو او د نامنونکیو په منځ کښې اختلاف واقع شوی دی پخوا له دې نه د «توریت» په متعلق هم هم داسې اختلاف واقع شوی وو بیا وګورئ چې د هغه انجام څرنګه شوی وو؟

وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ

او که چیری نه وی هغه خبره چی ړومبی شوی ده له (طرفه) د رب ستا (چی تاخیر د عذاب دی تر قیامت پوری) نو خامخا حکم به کړی شوی ؤ په منځ د دوی (په دنیا) کښی

**تفسیر:** هم هغه خبره صادره شوی ده چی د دغو گردو (تولو) شیانو فیصله په آخرت کښی کیږی.

وَإِنَّهُمْ لَفِي شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيبٍ ﴿٤٥﴾

او بیشکه چی دغه (دروغ جوړوونکی) خامخا په داسی شک کښی دی له دی (قرآنه یا له توریت) چی موجب د اضطراب دی

**تفسیر:** یعنی مهمل شکوک او چتی (بیکاره) شبهات دوی ته اطمینان او هوسائی (آرام) نه ورکوی او تل د دوی په زړونو کښی اندیښنی وی.

مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهِ ۖ وَمَنْ أَسَاءَ فَعَلَيْهَا ۗ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ ﴿٤٦﴾

هر څوک چی وکړی نیک (کار) پس دپاره د ځان خپل ئی دی او هر څوک چی بدکار وکړی پس هغه بار دی په ده او نه دی رب ستا ظلم کوونکی پر بندگانو (چی بی موجبه ئی په عذاب کړی)

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ له جانبه ظلم نه کیږی هر سړی به د خپل عمل بدل ومومی، څه چی ئی کړی وی هم هغه به ئی په مخه ورشی نه د هیچا نیکی هلته ضائع کیږی او نه د یوه بدی د بل چا په غاړه کښی لویږی. (ربط) کله چی د نیکی او بدی پوره بدل د قیامت په ورځ ورکول کیږی او کفارو به علی‌الاکثر دغسی پوښتنی کولی چی قیامت کله راځی؟ نو ځکه د هغه په نسبت اوس د هم دغه مبارک تفسیر د مخامخ مخ په اوله کرښه کښی داسی ارشاد صادریږی چی

## إِلَيْهِ يُرَدُّ عِلْمُ السَّاعَةِ

خاص هم دغه (الله) ته ورکاوه شي علم د قيامت (چه څه وخت به واقع کيږی)،

**تفسير :** يعنی يواځی الله تعالیٰ په دی عالم دی چه قيامت کله راځی؟ ډير لوی رسول او ستره پرښته هم د قيامت د وخت له تعيينه عاجزه او ناتوانه ده. که څوک د قيامت د قيام پوښتنه له دوی نه وکړی نو جواب به ئی داسی آوری «ما المسئول عنها باعلم من السائل».

## وَمَا تَخْرُجُ مِن ثَمَرَاتٍ مِّنْ أَكْمَامِهَا وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِ

او نه راوځی هيڅ قسم له ميوو څخه له غلافو د دوی څخه او نه آخلی بار هيڅ ښځه (له انسانه او حيوانه) او نه ږدی بار (حمل) خپل مگر په علم د الله سره.

**تفسير :** يعنی د الله تعالیٰ علم پر هر شي محيط دی. هيڅ يوه خرما له خپلی واښکی، او هيڅ يوه دانه له خپل وږی او هيڅ يوه ميوه او ثمره له خپلی خولی (غلافه) د باندی نه راوځی چه الله تعالیٰ ته هغه نه وی معلوم (بلکه معلوم دی) د هيڅ يوی ښځی يا د ښځی ساکښ (ذی روح) په گيډه يا په هگی کښی به داسی وړوکی مولود او موجود نه وی چه الله تعالیٰ ته هغه نه وی معلوم (بلکه معلوم دی) او هر هغه چی دوی ئی ځيږوی يا تری ووځی هغه گرد (تول) د الله تعالیٰ په علم کښی شته. هم داسی وپوهيږئ چه د دغی موجودی وړی دنيا د نتيجی په ډول (طريقه) د آخرت ظهور او د قيامت وقوع هم هرومرو (خامخا) په عمل راځی د هغه وخت او نيته هم هم دغه رب البريه ته معلومه او ښکاره ده چه کله راځی؟ هيڅ يو انسان يا پرښته په دی نه دی خبر او نه دغه ضروری ده چه څوک پری خبر شي بلکه دغه هر انسان ته لازم دی چه د قيامت پر خبرو او احوالو او اهوالو سم د الله تعالیٰ له اخبار او اعلام تام يقين او باور ولری! او د هم هغی ويروونکی ورځی په توتيه او فکر او ذکر کښی دی تل اوسی! چه په هغه کښی به له سره دوستی او رفاقت، امداد او شفاعت، کومک او معاونت بی د رب العزت له مرحمته ممکن نه دی او نه تری نجات او مخلص شته.

## وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ أَيْنَ شُرَكَائِي

او په هغه ورځ غږ به وکړي (الله) مشرکانو ته چې څه شول شریکان زما (په زعم د تاسي).

**تفسیر :** یعني هغه خپل معبودان راوبولئ چه هغو مو زما په الوهیت کښې شریک درولی وو چه اوس هغوی چیرې دي؟.

قَالُوٓا اٰذَنّٰكَ مَا مِنَّا مِنْ شَهِيْدٍ ﴿٤٧﴾

نو وبه وائي دغه (مشرکان) چې خبر کړې مونږ ته (اوس) چې نشته زمونږ نه هیڅوک شاهد (په دي چې تاته شریک شته).

**تفسیر :** یعني مونږ په صافو او ښکاره وو الفاظو سره د تا په حضور کښې عرض کړې دي چې مونږ له سره پخپل جرم او ګناه اقرار او اعتراف نه کوو، او نه د هغه د اقبال دپاره حاضر یو (ګواکي په دغه وخت کښې په نهایت لجاجت او سپین سترګی توب په دروغو سره له خپل کفر، شرک او عصیان، انکار کوي) ځینو د «شهید» معني شاهد اخیستي ده او داسي مطلب تري اخلي چه په دغه وخت کښې هیڅ یو زمونږ هغه شرکاء دلته نه وینو او را څخه ورک شوي دي.

وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَدْعُوْنَ مِنْ قَبْلُ وَظَنُّوْا مَا لَهُمْ مِّنْ مَّحِيْصٍ ﴿٤٨﴾

او ورک به شي له دوي نه هغه (بتان) چې وو دوی چه عبادت به ئې کاوه (د هغو) پخوا له دي نه (په دنیا کښې) او یقین به راشي د دوی چه نشته دوی ته هیڅ ځای د تیښتې (له عذاب د الله څخه).

**تفسیر :** یعني هغو شیانو ته چه تاسي په دنیا کښې د الله تعالیٰ شریکان ویل او د هغو په عبادت کښې لګیا وئ نن د هغوی هیڅ درک او پته نه ده معلومه چه چیرې دي؟ د خپلو عابدانو مدد ته ولي نه راځي؟ او د عابدانو له زړو ځني هم هغه د بللو او د عبادت کولو خیالات او افکار غائب شوي دي هغوی اوس ښه پوهیدلي دي چه د الله تعالیٰ له سزا څخه له سره نشي خلاصیدی او خپل مرې د ده د سزا له منګلو څخه په هیڅ وسیله نشي خوشي کولی بالاخر بې‌هیلي او نا امیده کیږي او له هغو ځني بیخي خپله بې‌تعلقي او بیزاري ښکاروي چه د دوی په حمایت به له انبیاؤ سره جنګیدل او د هغو پند به ئې نه اوریده.

لَا يَسْـَٔمُ الْاِنْسَانُ مِنْ دُعَآءِ الْخَيْرِ وَاِنْ مَّسَّهُ الشَّرُّ فَيَئُوْسٌ قَنُوْطٌ ﴿٤٩﴾ وَلَئِنْ اَذَقْنٰهُ
رَحْمَةً مِّنَّا مِنْ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ لَيَقُوْلَنَّ هٰذَا لِيْ وَمَآ اَظُنُّ السَّاعَةَ قَآئِمَةً
وَّلَئِنْ رُّجِعْتُ اِلٰى رَبِّيْٓ اِنَّ لِيْ عِنْدَهٗ لَلْحُسْنٰى

نه ستړی کیږی انسان له غوښتلو د خیر (او د انواعو د ښیګڼو) او که ورسیږی ورته کوم شر پس ناامیده وی دی ډیر سخت (له رحمته د الله). او قسم دی خامخا که وڅکوو ده ته رحمت (مهربانی غنا او صحت) له (جانبه) زمونږ پس له هغی سختی چی رسیدلی وی ده ته (له فقر او مرض) نو خامخا وبه وائی دی هرومرو (خامخا) چه دغه (غنا او صحت لائق) زما دی (په سبب د عمل زما) او ګمان نه کوم پر قیامت د دریدونکی (چه رابه شی) او قسم دی که (بالفرض) بیرته وګرځولی شم په طرف د رب خپل نو بیشکه زما دپاره به وی په نزد د دغه (الله) کښی خامخا نیکی (جنت)،

**تفسیر :** یعنی د انسان طبیعت هم عجیب قسم دی کله چه لږ څه دنیوی نیکی او ښیګڼه ورته ورسیږی او څه عیش او عشرت او آرامی ئی په برخه شی نو د ډیر حرص او طمعی لامله (وجی) غواړی چه لا نوری مزی او چرچی هم وکړی او تر هری اندازی پوری چه آرام او هوسا وی نه پری قانع کیږی او ګیده ئی پری نه مړیږی او که له وسه او توانه ئی پوره وی د تولی دنیا مال او دولت به تولوی او پخپل کور کښی ئی غوندوی لیکن که چیری لږ څه سختی او بده ورځ پری راشی او د ظاهری اسبابو سلسله له خپله مرضی څخه چپه او مخالفه ووینی نو ژر تر ژره نا امیده او مأیوس کیږی او په دغه وخت کښی په مات زړه بیٰ‌هیلی او وارخطاء کیږی ځکه چه د هغه نظر تش پر دغه وروړاندی شویو اسبابو محدود وی او پر مطلق قادر او مسبب‌الاسباب ئی اعتماد نه وی چه که هغه اراده وفرمائی په یوه آن کښی د اسبابو ګرده (توله) سلسله پر بلی خوا هم اړولی شی. له دغی مأیوسی څخه وروسته که بالفرض الله تعالیٰ له ده نه دغه تکلیف او مصیبت لری هم کړی او پخپل فضل او مرحمت سره د عیش او راحت مسائل هم ور تهیه کړی نو وائی «هذا لی» یعنی ما هغه فلانی تدبیر کړی ؤ زما په تدبیر او لیاقت او فضیلت سره خامخا هم داسی کیدونکی ؤ اوس نه د پاک الله فضل او مرحمت یادوی او نه ئی د خپلی هغه مأیوسی او ناامیدی کیفیت چی لږ څه پخوا ورپیښ وو په یادیږی. د عیش او آرام په نشو کښی داسی مخمور او مسرور کیږی چی ګواکی وروسته به هیڅ یو مصیبت او نکبت نه وروړاندی کیږی او داسی به ئی ګڼی چه تل به هم داسی په آرامی او هوسائی (آرام) کښی اوسیږم او که چیری د دغو تأثیراتو په منځ کښی د قیامت نوم واوروی نو وائی چی زه خو داسی خیال نه کوم چه

دغسی یو شی واقع کیدونکی دی او فرض ئی کړئ که دغسی پیښه واقعه هم شی او زه بیا د خپل رب په طرف بوتللی هم شوم نو یقین کوم چی هلته به هم زما انجام ښه وی که زه د الله تعالیٰ په نزد خراب او نالائق وی نو په دنیا کښی به دومره عیش او راحت زما په برخه نه کیده نو ځکه توقع ده چه هلته هم هم دغسی معامله به له ماسره کیږی.

فَلَنُنَبِّئَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِمَا عَمِلُوا وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنْ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴿٥٠﴾

پس خامخا خبر به درکړو هرومرو (خامخا) هغو کسانو ته چی کافران شوی دی په هغو (عملو) چی کړی ئی دی او خامخا وبه څکوو هرومرو (خامخا) پر دوی له عذابه سخته لویه.

**تفسیر :** یعنی خوښ شئ! چی له دغه کفر او غرور سره به هم هلته مزی او چړچی کوئ؟ کله چه هلته ورسیږئ بیا به درخرگنده (ښکاره) شی چه منکرین څرنگه سختی سزاوی گالی (برداشت کړی) او په څه شان سره د خپل گرد (تول) عمر د اعمالو په سزا (هیداد) رسیږی؟.

وَإِذَا أَنْعَمْنَا عَلَى الْإِنسَانِ أَعْرَضَ وَنَأَىٰ بِجَانِبِهِ وَإِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ فَذُو دُعَاءٍ عَرِيضٍ ﴿٥١﴾

او کله چی انعام وکړو مونږ پر انسان نو وگرځی (له حقه او په څنگ شی له شکره) او لری شی (له سمی لیاری) په سبب د غرور (لوئ) خپلی او کله چی ورسیږی ده ته کومه سختی (بلاء) پس دی خاوند د دعاء اوږدی وی (یعنی تل مشغول وی په سؤال او زاری سره).

**تفسیر :** یعنی د الله تعالیٰ د نعمتونو د متمتع کیدلو په وخت کښی خو د حقیقی منعم د حق پیژندلو او شکر ایستلو څخه اعراض کوی او مخ تری اړوی او بیخی تری بی پروا کیږی او په بل اړخ اوړی. بیا هر کله چه کوم تکلیف او مصیبت وروراندی شی نو هم هغه پاک الله ته خپل د عجز لاس غځوی او اوږدی دعاوی کوی او له دی نه نه شرمیږی چه په کوم مخ او خوله تری دغسی غوښتنی وکړم او وئی بولم. د تماشا (ننداری) ځای دا دی چه ځینی اوقات پر اسبابو او وسائلو نظر اچوی او پخپل زړه کښی مایوس کیږی او په دغه حالت کښی هم له ډیری مایوسی او وارخطائی ترهور کیږی او د پاک الله په طرف بی اختیاره د دعاء لاس پورته کوی اگر په په خپل زړه کښی بی هیلی او ناامیده هم وی خو پخپلی ژبی سره در گرده (توله) الله تعالیٰ یادوی.

حضرت شاه صاحب رح لیکی «دغه گرد (تول) د انسان د قصور او د نقصان بیان دی چه نه پر سختی صبر او نه پر نرمی شکر کوی».

قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كَانَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ثُمَّ كَفَرْتُمْ بِهٖ مَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ هُوَ فِیْ شِقَاقٍۭ بَعِيْدٍ ﴿٥٢﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) آیا وینئ تاسی (نو ما هم خبر کړی چی) که چیری وی (دغه قرآن) له نزده د الله بیا کافران شئ تاسی په دغه قرآن) نو څوک دی ډیر گمراه له هغه چا چی دی په مخالفت لری کښی (له حقه) وی.

**تفسیر :** پاس ئی د انسان د طبیعت عجیبه او غریبه نخچه وایسته او ده ته د ده پر کمزوریو او ناروغیو په نهایت مؤثر بیان سره توجه ورکړه شوه اوس تنبیه کوی چه دغه کتاب تاسی ته ستاسی په کمزوریو او نقائصو پوهوونکی او د انجام په طرف مو متوجه کوونکی دی که د الله تعالیٰ له جانبه راغلی وی (لکه چی په واقع کښی دی) بیا نو تاسی ئی ولی نه منئ؟ او له دغسی اعلی او ډیرو قیمتدارو نصائحو څخه ولی منکریږئ؟ او د خپل عاقبت فکر او اندیښنه نه کوئ؟ بلکه د حق په مخالفت کښی ډیر لری تښتی نو آیا له دی نه بله کومه لویه گمراهی، نقصان او خساره شته؟.

سَنُرِيْهِمْ اٰيٰتِنَا فِی الْاٰفَاقِ وَفِیْٓ اَنْفُسِهِمْ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ اَنَّهُ الْحَقُّ ؕ

ژر ده چی وبه ښیو دوی ته دلائل (د قدرت) خپل چی په آفاق ملکونو کښی دی او په نفسونو د دوی کښی دی تر هغه پوری چی ښکاره شی دوی ته چی بیشکه دغه قرآن حق دی،

**تفسیر :** یعنی د قرآن حقانیت خو د نورو دلائیلو او براهینو په موجب په خپل ځای پاتی دی اوس مونږ منکرینو ته د دوی په خپلو ځانونو کښی او د دوی په اطرافو او اکنافو کښی او په گرد (تول) عربستان بلکه په تول جهان کښی د خپل قدرت هغه دلائل او نښی ورڅرگندوو (ښکاره کوو) چی په هغو سره د قرآن او د پاک قرآن د حاملینو صداقت بیخی د رڼی ورځی په شان تر سترگو روښان او عیان شی. هغه نمونی څه دی؟ هغه د اسلام د عظیم‌الشانو او محیرالعقولو هغه فتوحات دی چه د ظاهری اسبابو له سلسلی څخه بیخی مخالف او د لوی قرآن له پخوا ویلو سره ئی عیناً موافق وقوع وموندہ لکه چه د بدر په غزوی کښی کفارو پخپلو

ځانونو کښې او د معظمې مکې په فتحه کښې د عربستان په مرکز کښې او د راشده‌وو خلفاوو په عهد کښې په ګرد (تول) جهان کښې د هغه نمونې دوی پخپل سترګو سره ولیدلې او دا هم ممکن دی چه له «آیات» څخه د قدرت عمومي دلائل او نښې مرادی وی چې غور او دقت کوونکی ته پخپل وجود کښې او له خپله وجوده د باندې د دنیا په ګردو (تولو) شیانو کښې په نظر ورځي چې له هغو څنې د الله تعالىٰ د وحدانیت او د عظمت ثبوت مونده کیږي او د پاک قرآن د بیاناتو تصدیق په عمل راځي. کله چې هغه د هغو الهیه ؤ سننو او فطریه ؤ نوامیسو سره موافق ثابتیږي چې په دغه د تکوین په عالم کښې کار کوونکی دی په دغه قسم سره کله چې د تولو کونیه ؤ او د آفاقیه ؤ او د انفسیه ؤ حقائقو او آیاتو انکشاف خلقو ته دفعتاً نشي کیدی بلکه وقتاً فوقتاً او متدرجاً د هغو له څیرو څخه پردې لرې کیږي نو ځکه ئې داسې تعبیر وفرمایه «سنریهم آیاتنا».

---

# اَوَلَمۡ يَكۡفِ بِرَبِّكَ اَنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ شَهِيۡدٌ ﴿۵۳﴾

---

آیا کافي نه دی رب ستا (بلکه بس او کافي دی) بیشکه الله پر هر څیز شاهد حاضر ګواه دی.

---

**تفسیر :** یعنې ته پاک قرآن حق او رښتیا ومنه! که بل څوک ئې نه مني نو آیا یواځې د الله شهادت لږ دی او کافي نه دی؟ چې هغه پر هر شي شاهد او ګواه دی او پر هر څیز باندې له غور کولو څخه د ده د شهادت ثبوت مونده کیږي.

---

# اَلَاۤ اِنَّهُمۡ فِىۡ مِرۡيَةٍ مِّنۡ لِّقَآءِ رَبِّهِمۡ‌ؕ اَلَاۤ اِنَّهٗ بِكُلِّ شَىۡءٍ مُّحِيۡطٌ ﴿۵۴﴾ ع

---

وواوره خبردار شه! چې بیشکه کفار په شک کښې دی له ملاقات د رب خپل (ځکه چې منکران دی له بعثه) واوره خبردار شه! چې بیشکه الله پر هر څیز چاپیر کیدونکی دی (په علم په قدرت خپل او جزاء د کفر به ورکړي).

---

**تفسیر :** یعنې دوی په دی تیروتلې دی چه مونږ له الله تعالىٰ سره مخامخ کیدونکي نه یو او له سره د ده مخ ته نه بیولې کیږو حال دا چې الله تعالىٰ په هر وخت او هر شي باندې محاط او چاپیر دی او په هیڅ وخت کښې هیڅوک د ده له قبضې او احاطې څخه نشي وتلې که له مر کیدلو څخه وروسته د دوی د ابدانو ذرات له خاورو سره ګډ یا په اوبو کښې خلط او وبهیږي یا په هوا منتشر شي خو بیا هم د دغه پر هرې یوې ذرې د الله تعالىٰ علم او قدرت محیط دی او هغه بیا جمع کول او له نوی سره بیا ژوندی پاځول ورته هیڅ سختي او اشکال نه لري.

**تمت سورة حٰمٓ السجدة فلله الحمد والمنة .**

سورة الشوریٰ مکیة الا الآیات ٢٣و ٢٤ و ٢٥ و ٢٧ فمدنیة وهی ثلث و خمسون آیة
وخمس رکوعات. رقم تلاوتها (٤٢) تسلسلها حسب النزول (٦٢) نزلت بعد حٰمٓ السجدة.

د «الشوریٰ» سورت مکی دی پرته (علاوه) له ٢٣، ٢٤، ٢٥، ٢٧ آیتونو څخه چی مدنی دی
(٥٣) آیته (٥) رکوع لری. په تلاوت کښی (٤٢) په نزول کښی (٦٢) سورت وروسته د «حٰمٓ
السجدة» له سورته نازل شوی دی.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی.

حٰمٓ ① عٓسٓقٓ ② كَذٰلِكَ يُوْحِيْٓ اِلَيْكَ وَاِلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكَ ۙ اللهُ الْعَزِيْزُ
الْحَكِيْمُ ③ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۭ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ④

په مثل (د وحی) د هم دی (سورت) همیشه وحی کوی تاته (ای محمده!) او
(وحی کړی وه) هغو انبیاؤ ته چی پخوا له تا وو الله ښه غالب قوی (په انفاذ
د احکامو) ښه حکمت والا (چی هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی)
خاص هم ده لره دی هر هغه شیان چی په آسمانونو کښی دی او هر هغه
شیان چی په ځمکه کښی دی (سره له آسمانونو او ځمکی ملکاً خلقاً او
عبیداً) او هم دی دی ډیر پورته ډیر لوی.

**تفسیر**: یعنی هم هغسی چی دغه سورت (چی په نهایت اعلیٰ او اکملو مضامینو مشتمل دی)
ستا په طرف وحی کاوه شی هم داسی د الله تعالیٰ عادت دی چی دغه وحی ستا په طرف او د
نورو انبیاؤ په طرف دائمه ولیږی چی په هغی سره د حکمت شان او د حکومت اظهار تل تر تله
وشی.

تَكَادُ السَّمٰوٰتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْ فَوْقِهِنَّ

نژدی دی آسمانونه (تول دی ته) چی وچوی له پاسه د دوی (له جهته د ظهور
د کبریاء او عظمت د رب العزت).

**تفسیر :** یعنی آسمان به د الله تعالیٰ د عظمت او جلال له زوره ځیری شی (یا به وچوی) یا د بی حسابو پرښتو له درندوالی یا د دوی د ذکر له کثرته یو خاص تاثیر تولید او د هغه په اثر به ځیریږی. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چی «په آسمانونو کښی د څلورو ګوتو په اندازه هم داسی یو ځای نشته چی په هغه کښی به پرښتی سر په سجده نه وی پرتی« . ځینو د دی آیت مطلب داسی اخیستی دی کله چی مشرکین الله تعالیٰ ته شریکان، ځامن او لونی دروی نو د پاک الله په دربار کښی داسی بی ادبی، سپین سترګی، او ګستاخی له اثره هیڅ لری نه دی چی د اسمان پاسنی سطحه ځیری او توتی توتی د لاندی ولویږی. کما قال الله تعالیٰ فی سورة مریم ﴿ تَكَادُ السَّمٰوٰتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَتَنْشَقُّ الْأَرْضُ وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا أَنْ دَعَوْا لِلرَّحْمٰنِ وَلَدًا ﴾
مګر د الله تعالیٰ د رحمت او مغفرت له شانه او د پرښتو د تسبیح او استغفار له برکته دغه نظام قوام لری او تینګ ولاړ دی.

---

وَالْمَلٰٓئِكَةُ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لِمَنْ فِي الْأَرْضِ ۗ

---

او پرښتی تسبیح وائی سره د حمد د رب خپل او مغفرت غواړی دپاره د هغه چا چی په ځمکه کښی دی (له مؤمنانو)،

---

**تفسیر :** یعنی ای الله تعالیٰ! د مؤمنینو خطاء او ښوئیدل معاف وفرمایه! او کفار یو څلی مه نیسه! او بیخی ئی مه سپیره او مه ئی پو پناه کوه!.

---

أَلَآ إِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ۝٥

---

واوره خبردار شه چی بیشکه هم دغه (الله) ښه مغفرت کوونکی (د خطیاتو) ډیر رحم والا دی (په انعام د اجر او ثواب سره).

---

**تفسیر :** یعنی خپلی مهربانی د پرښتو دعاوی قبلوی او د مؤمنینو خطاوی ور معافوی او کفارو ته تر یوی نیتی پوری مهلت ورکوی. که نه د دنیا دغه نظام او قوام او دغه لویه کارخانه به په یوه ړپه کښی دړی وړی خرابه او ویجاړیږی.

---

وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ أَوْلِيَآءَ اللّٰهُ حَفِيْظٌ عَلَيْهِمْ ۖ وَمَآ أَنْتَ عَلَيْهِمْ بِوَكِيْلٍ ۝٦

او هغه کسان چې نیولي ئې دي بې له دغه (الله نور) دوستان (بتان) چې عبادت ئې کوي) الله ښه ساتونکی دی پر دوی (او تول احوال ئې ورمعلوم دي چې جزاء به ورکړي) او نه ئې ته پر دوی وکیل (مسلط کړی شوی)

**تفسیر :** یعني په دنیا کښې خو مشرکینو ته مهلت ورکوي لیکن داسې مه ګڼئ چې هغوی د همیشه دپاره نجات وموند. د دوی ګرد (تول) اعمال او احوال د الله تعالیٰ په نزد محفوظ دي چې پخپل وخت (تاپې) به ورخرګندیږي (ورښکاریږي) تاسې په دغه فکر او اندیښنه کښې مه لویږئ چې دوی ولې زما دعوت او تبلیغ ته غوږ نه ږدي؟ او د نه منلو په صورت ولې سم د لاسه نه تباه او نه بربادیږي؟ تاسې د دغو خبرو ذمه وار نه یئ! ستاسې کار یوائې د حق تعالیٰ پیغام رسول دي وروسته له هغه زمونږ کار دی چې مونږ د دوی حساب او کتاب ګورو او عادلانه فیصله د هغه په نسبت صادروو.

وَكَذٰلِكَ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا لِّتُنْذِرَ أُمَّ الْقُرٰى وَمَنْ حَوْلَهَا

او هم داسې (چې هر نبي ته مو وحی کوله) وحی مو کړې ده تاته (ای محمده!) قرآن عربي (په ژبه د قوم ستا) دپاره د دې چې وویروې (اهل د) مور د ښارونو (چې مکه ده) او هغه کسان چې چاپېر دي له دې نه.

**تفسیر :** امالقری (لوی کلی) ئې مکې معظمې ته وفرمایل چې د ګردو (تولو) اعرابو مجمع به هلته سره کیده او په توله دنیا کښې د الله تعالیٰ کور هلته دی او هم هغه کور د ځمکې پر مخ له ګردو (تولو) ځنې ړومبی اول معبد تاکلی (مقرر) شوی دی بلکه له روایاتو څخه معلومیږي چې د خلقت په ابتدا کښې الله تعالیٰ د ځمکې په غوړولو ارتولو لویولو له هم دغه ځایه شروع کړې ده چیرې چې اوس کعبة الله واقع ده او د معظمې مکې له شاؤ خوا څخه اول عربستان او بیا ګرد (تول) جهان مراد دی.

وَتُنْذِرَ يَوْمَ الْجَمْعِ لَا رَيْبَ فِيهِ ۚ فَرِيقٌ فِي الْجَنَّةِ وَفَرِيقٌ فِي السَّعِيرِ ۝٧

او چې وویروې (خلق) له ورځې د جمع کیدلو (چې ورځ د قیامت ده) چې نشته هیڅ شک په (وقوع د) دغه (قیامت کښې) یوه فرقه به وي په جنت کښې (چې مؤمنان دي) او بله فرقه به وي په دوزخ کښې (چې کافران دي).

**تفسیر :** یعنی دوی خبردار کړئ چی یوه داسی ورځ هم راتونکی ده چی ګرد (ټول) پرومبنی او روستنی مخلوقات به د خپل حساب، کتاب، ثواب او عقاب دپاره د الله تعالیٰ په حضور کښی حاضریږی دغه یوه یقینی او قاطعه خبره ده چی په هغی کښی هیڅ قسم تردد، اشتباه، فریب، شک او شبهه نشته پر هر انسان لازم دی چی د هغی ورځی دپاره خپل ځان تیار کړی په دغه وخت کښی به ټول مخلوقات په دوو فرقو سره تقسیمیږی، یوه فرقه به جنتیان وی او بله فرقه به دوزخیان وی نو تاسی پخپل ځان غور او دقت وکړئ چی په کومه فرقه کښی به یئ؟ که نه؟ او څه سامان مو ورته تهیه کړی دی؟ که نه؟.

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَهُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰكِنْ يُّدْخِلُ مَنْ يَّشَآءُ فِىْ رَحْمَتِهٖ ۗ وَالظّٰلِمُوْنَ مَا لَهُمْ مِّنْ وَّلِىٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿٨﴾

او که اراده فرمائلی وی الله نو خامخا ګرځولی به ئی وو دغه ټول مخلوق فرقه یوه (په دین د اسلام) ولیکن ننباسی (الله) هر هغه څوک چی اراده وفرمائی په رحمت (جنت) خپل کښی او ظالمان چی دی نشته دوی ته هیڅوک دوست (نافع) او نه مددګار (دافع د عذاب).

**تفسیر :** یعنی بیشکه الله تعالیٰ قدرت درلود (لرل) که اراده ئی فرمایلی وی نو ګرد (ټول) خلق به ئی یو شان جوړ او پیدا کړی وی او په یوه لیاره به ئی لګولی وی لیکن د ده د حکمت اقتضاء داسی شوه چی خپل د رحمت او د غضب د دواړو قسمو صفات اظهار وفرمائی نو ځکه د بندګانو په احوال کښی ئی اختلاف او تفاوت کیښود یوه ډله ئی د خپل عبادت او اطاعت له سببه د رحمت مورد وګرځوله او بله ډله ئی د دوی د ظلم، طغیان او عصیان په علت له خپل رحمت څخه لری وشړله هغه کسان چی له رحمت څخه لری شوی دی او د غضب مستحق ګرځیدلی دی او د الله تعالیٰ د حکمت اقتضاء پر دوی خپله سزاء جاری کړی ده نو د دوی د آرامی او هوسائی (آرام) ځای هیچیری نشته او نه دوی کوم دوست، رفیق او مددګار موندلی شی چی دوی ته د الله تعالیٰ له عذابه نجات ورکړی.

اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ ۚ فَاللّٰهُ هُوَ الْوَلِىُّ وَهُوَ يُحْىِ الْمَوْتٰى وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٩﴾

آیا نیولی دی (کفارو) غیر له الله (نور بتان) دوستان (که دوی نیسی حقانی دوست) پس الله چی دی هم دی دی دوست (په حق سره) او هم دی ژوندی کوی مړی او هم دی پر هر شیز باندی (چی اراده وفرمائی) سه قادر دی (چی ځینی ئی هم دغه احیاء ده).

**تفسیر** : یعنی که رفیق او مددګار د خپلو ځانونو دپاره نیسی نو پاک الله خپل ځانته ولی او دوست وګرځوئ چی ګرد (تول) کارونه جوړولی شی تر دی پوری چی مړی هم ژوندی کولی شی او پر هر شیز پوره قدرت او توان لری دغه عاجز، مجبور او ناتوان رفیقان هیڅ ستاسی په کار نه درځی.

وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِن شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ

او په هغه خبره کښی چی جګړه کوئ تاسی (له کفارو سره) په هغه کښی له کوم شیزه پس حکم (فیصله د هغه (مفوض دی) الله ته.

**تفسیر** : یعنی ښائی چی د ګردو (تولو) جګړو فیصله هم هغه ته ورسپارلی شی! عقاید وی که احکام عبادات وی که معاملات په هر شیز کښی چی جګړه او اختلاف واقع شی د هغه دیره ښه فیصله هم دا ده چی پاک الله ته وروسپارله شی! دی به د کونیږ دلائلو په ذریعه، یا پخپل کتاب کښی یا د خپل رسول په ژبه صراحتاً یا اشارتاً د هری مسئلی هره هغه فیصله چی صادره کړی نو بیا بنده ته د دی خبری حق نشته چی په کښی څه ووائی. توحید چی اصل‌الاصول دی کله چی الله تعالیٰ قولاً او فعلاً بالتساوی د هغه په نسبت حکم صادروی نو بیا څرنګه جائز وی چه بنده به داسی قطعی او محکمی فیصلی کښی مناقشه او جګړه وکړی او چتی (بیکاره) شبهی په هغی کښی پیدا کړی او د ده له فیصلی څخه غاړه وغړوی.

ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبِّي عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ ﴿١٠﴾

دغه (مطلق قدیر چی حکم کوی په حقه سره) الله دی رب زما خاص پر هم ده توکل کړی دی ما او خاص هم ده ته رجوع کوم (په هر حال په اطاعت سره).

**تفسیر** : یعنی زه تل پر الله اعتماد او اطمینان لرم او په هره معامله کښی تل د هم هغه په طرف رجوع کوم.

فَاطِرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا وَّمِنَ الْاَنْعَامِ اَزْوَاجًا ۚ

(الله) پیدا کوونکی دی آسمانونو او د ځمکی پیدا کړی دی (الله) تاسو ته له ځانونو ستاسی جوړی (له جنسه ستاسی ښځی) او له چارپایانو جوړی (نر او ښځه).

**تفسیر :** یعنی له چارپایانو (څلور بولو) څخه ئی جوړی (نر او ښځه) در پیدا کړی دی چی هغه ستاسی په کار درځی او تری منافع اخلئ!.

يَذْرَؤُكُمْ فِيْهِ ؕ

پیدا کوی (زیادوی) تاسی په دغه (طریقه د توالد او تناسل) سره،

**تفسیر :** یعنی د انسانانو بیلی بیلی جوړی ئی پیدا کړی دی او د نورو ساکښانو بیله جوړه ئی پیدا کړی ده او د دوی ډیر نسلونه ئی خپاره واره او منتشر کړی دی چی د ځمکی پر مخ کښی په هر ځای کښی په خپلی روزی او معیشت پسی ګرځی او په جدوجهد کښی مشغول او لګیا دی.

لَيْسَ كَمِثْلِهٖ شَيْءٌ ۚ

نشته په شان د دغه (الله) هیڅ څیز (په هیڅ څیز کښی).

**تفسیر :** یعنی نه په ذات کښی ورسره مماثل دی او نه په صفاتو کښی او نه د ده د احکامو او فیصلو په شان د بل چا حکم او فیصله کیدی شی. او نه د ده د دین په شان بل کوم دین دی او نه دی کومه جوړه، سیال، شریک، خپل او خپلوان لری.

وَهُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ⑪

او هم دغه (الله) دی ښه اوریدونکی (د ټولو اقوالو) ښه لیدونکی (د ګردو (ټولو) اعمالو) .

**تفسير** : يعني بيشكه الله هر شي ويني او آوري ئې مګر د الله تعالىٰ ليدل او اوريدل هيڅ د مخلوقاتو په شان نه دي ګرد (تول) كمالات د ده په جامع‌الصفات ذات كښې مجموع دي خو د ده هيڅ يو كمال داسي نه دى ى د هغه كيفيت بيان كړاى شي ځكه چې د هغه مثال او نظير هيچيرى نشته. الله تعالىٰ د مخلوقاتو له مشابهت او مماثلت څخه بيخي پاك، مقدس او منزه دى نو بيا د ده د صفاتو كيفيت په څرنګه په فهم او پوه كښې راشي؟.

لَهٗ مَقَالِيْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ؕ اِنَّهٗ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۱۲﴾

خاص دغه (الله) لره دي كليګانى (چابيانى) (د خزائنو) د آسمانونو او د ځمكې فراخوى ارتوى رزق روزى دپاره د هر هغه چا چې اراده وفرمائى او تنګوى (ئې پر هغه چا چې اراده وفرمائى) بيشكه دغه (الله) پر هر څيز باندى ښه عالم دى.

**تفسير** : د ګردو (تولو) خزائنو كليګانى (كنجيانى) د ده د قدرت په لاس كښې دي هم ده ته دغه قدرت او اختيار حاصل دى چې له هرى خزانې څخه هر چاته هر څومره چې اراده وفرمائى ور ئې كړى، ګردو (تولو) ذوى‌الارواحو ته هم دى رزق او روزى وركوى، ليكن د هغه زيادت او د نقصان تعيين سم له خپل حكمت سره كوى. پاك الله ته دغه خبره ډير ښه معلومه ده چې چاته څومره شي ورعطا كړى شي؟ او د ده استحقاق څومره دى؟ او د هغه په حق كښې د څومره وركړى مصلحت دى؟ كوم حال او وضعيت چې د روزى په نسبت دى د نورو عطاياوو په متعلق ئې هم همه غسې وګڼئ!

شَرَعَ لَكُمْ مِّنَ الدِّيْنِ مَا وَصّٰى بِهٖ نُوْحًا وَّالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهٖٓ اِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى وَعِيْسٰٓى

مقرر كړى بيان كړى دى (الله) تاسى ته له دين څخه هغه چې وصيت (حكم) ئې كړى وو په هغه سره نوح ته او هغه (څيز) چې وحى حكم كړى ده تاته (اى محمده!) او هغه (څيز) چې حكم كړى وو مونږ په هغه سره ابراهيم ته او موسىٰ ته او عيسىٰ ته.

**تفسیر :** له آدم علیه السلام څخه وروسته او له ګردو (ټولو) څخه ړومبنی رسول حضرت نوح علیه السلام دی بلکه ښائی چی وویلی شی فی‌الحقیقت د تشریعیه ؤ احکامو سلسله له هم دغه نوح علیه السلام څخه شروع شوی ده او وروستنی رسول حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم دی چی پر دوی د رسالت او د نبوت سلسلی خاتمه موندلی ده په منځ کښی هومره انبیاء او رسولان چی راغلی دی په دوی کښی حضرت ابراهیم حضرت موسٰی حضرت عیسٰی علیهم السلام هم دغه دری واړه هم زیات مشهور شوی دی او د دوی نوم اخیستونکی په هره زمانه کښی ډیر کسان موجود وو. ځینی دغو پنځو تنو رسل الله ته اولوالعزم رسولان هم وائی. په هر حال په دغه ځای کښی الله تعالیٰ په صاف ډول (طریقه) سره وښود چی په اصل کښی دین تل تر تله یو وو ځکه چی په عقائد، اخلاق او د دیانت په اصول کښی تول سره یو او ګرد (ټول) سره متفق وو. هو! په ځینو فروعو د هری زمانی د مصالحو په موجب څه تفاوت واقع شوی دی او هم د دین د قیام طور او طریقه ئی په هر وخت کښی بیله درولی ده چی هغه ئی په بل ځای کښی داسی فرمایلی دی ﴿ لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا ﴾

أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ ۚ

داسی چی قائم کړئ سم ودروئ دین (د توحید) او مه غورځوئ اختلاف په هغه کښی،

**تفسیر :** یعنی پر ګردو (ټولو) انبیاؤ او د دوی پر امتو هم داسی حکم صادر شوی دی چی د الله تعالیٰ دین پخپلو اعمالو او اقوالو کښی ټینګ او قائم وساتئ! او د دین په اصل کښی هیڅکله تفریق او اختلاف روا او جائز مه بولئ!

كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِينَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ ۚ اللَّهُ يَجْتَبِي إِلَيْهِ مَن يَشَاءُ وَيَهْدِي إِلَيْهِ مَن يُنِيبُ ﴿١٣﴾

ډیر درونډ دی پر مشرکینو هغه (څیز) چی بولی ته دوی هغه (توحید) ته، الله راکاږی ځان خپل ته (غوره کوی) هغه څوک چی اراده وفرمائی (د غوره کولو ئی) او سمه لیاره ښیی دین خپل ته هغه چاته چی رجوع کوی (الله ته).

**تفسیر** : یعنی د توحید د هغه دین په طرف چې تاسې خلقو ته دعوت ورکوئ پر مشرکینو هغه ډیر دروند واقع کیږي ګواکې تاسې کوم نوی او عجیب شی خلقو ته وروړاندی کوی چې هیڅا د هغه نظیر او مثال پخوا له تاسې نه دی وړاندی کړی. نو ښه د توحید په مثال یو صاف، معقول، ښکاره او متفق علیه شی هم کله چې سخت او دروند ورښکاره شی او په هغه کښې هم خلق د اختلافاتو له غورځولو څخه پاتې نشي نو آیا د دوی جهالت او بدبختی خپلې انتهائی اندازې ته نه دی رسیدلی؟ رښتیا خبره هم دا ده هدایت او نور شیان ګرد (تول) د الله تعالیٰ د قدرت په لاس کښې دی په هر قسم چې اراده وفرمائې خپل بندګان غوره کوی او خپل طرفته وربولي او په خپل رحمت سره د قرب او اصطفاء په مقام ئې فائزوی او هغه کسان چې له خپلو ښو استعداداتو د ده په جانب رجوع کوی او محنتونه پر خپلو ځانونو ګالي (برداشت کوی) د دوی محنتونه پر خپله نښه لګول او د دوی لاس نیول او بریالي (کامیاب) ګرځول هم د هغه کار دی کما قال الله تعالیٰ فی جزء ۲۰ الرکوع (۷) آیت ۶۸ من سورة القصص ﴿ وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ ۗ مَا كَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ ﴾ وفی جزء ۱۷ الرکوع (۱۰) آیت۷۵ من سورة الحج ﴿ اَللّٰهُ يَصْطَفِيْ مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا وَّمِنَ النَّاسِ ﴾ وفی جزء ۲۱ الرکوع (۷) آیت ۶۹ من سورة العنکبوت ﴿ وَالَّذِيْنَ جٰهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ﴾ په هر حال د الله تعالیٰ حکمت د هر چا هدایت ته چې مقتضی شی هغه هدایت موندلی او د الله تعالیٰ د رضا او د لقاء په نعمت فائزالمرام کیدی شی!

---

وَمَا تَفَرَّقُوْٓا اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًاۢ بَيْنَهُمْ ؕ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى لَّقُضِيَ بَيْنَهُمْ ؕ وَاِنَّ الَّذِيْنَ اُوْرِثُوا الْكِتٰبَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيْبٍ ﴿۱۴﴾

---

او نه وو سره مختلف شوی (پخوانی خلق په دین خپل کښې) مګر پس له هغه چې راغلی دوی ته علم (مختلف شو) له جهته د حسده په منځ خپل کښې او که چیری نه وی یوه خبره چې ړومبی ویلی شوی ده له (جانبه) د رب ستا تر نیتې په نامه کړی شوی پوری نو خامخا حکم به کړی شوی وو په منځ د دوی کښې (په عذاب د کفارو په دنیا) کښې او بیشکه هغه کسان چې ورته په میراث ورکړی شوی دی کتاب پس له هغوی څخه خامخا په داسې شک کښې دی له دی (قرآنه) چې په اضطراب اچوونکی دی.

---

**تفسیر** : یعنی په توحید او د دین په اصولو کښې هغو کسانو چې اختلاف ئې غورځولی دی او په سماویو کتابونو کښې ئې تحریف کړی دی د دوی دغه وضعیت د غلط فهمی یا د اشتباه

له وجی نه وو په داسی صاف او صریح او مجمع علیه تعلیماتو کښی اشتباه او التباس ځنګه واقع کیدی شی؟ محض نفسانیت، ضد، عناد، عداوت د مال او جاه طلب او نور اسباب دی چی فیالحقیقت د دغه مذموم تفریق او اختلاف باعث شوی دی. وروسته له هغه چی اختلاف قائم شو مختلفو مذاهبو خپلو ځانونو ته بیل بیل سنګرونه او مورچلونه جوړ کړل او وروسته له هغه راتلونکی نسلونه په عجیبوو خبطو او خطاؤ کښی ولویدل، او داسی شکوک او شبهات پیدا کړل شول چی د هغو لامله (له وجی) په هیڅ یوه حال کښی په اطمینان او آرامی کښی تری پاتی نشول. مګر دغه ګرد (تول) شیان د دی لامله (له وجی) وشول چی الله تعالیٰ پخپل حکمت خپلو بندګانو ته ډیل او مهلت ورکړی دی. که الله تعالیٰ اراده فرمایلی وی نو دغه ګرد (تول) اختلافات به ئی یو ځلی ختم کړی وی مګر داسی کول د تکوین له اصلی غرض سره منافی وو، د ده بالغه حکمت د دغی خبری مقتضی وو چی د دغو اختلافاتو عملی او قاطعه فیصله په یوه معینه نیته د ژوندانه په بله دوره کښی وکړه شی. که دغه خبره پخوا له دی نه نه وی وتلی نو د تولو جګړو، مناقشو، خبرو اترو او وقائعو فیصله به چټ پټ او لاس په لاس کیده او هره خبره به په هم هغه خپل موقع کښی فیصله او پری کیده.

---

فَلِذٰلِكَ فَادْعُ ۚ وَاسْتَقِمْ كَمَآ أُمِرْتَ ۚ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ ۚ
وَقُلْ ءَامَنتُ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِن كِتَٰبٍ ۖ وَأُمِرْتُ لِأَعْدِلَ
بَيْنَكُمُ ۖ ٱللَّهُ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ ۖ لَنَآ أَعْمَٰلُنَا وَلَكُمْ أَعْمَٰلُكُمْ ۖ لَا
حُجَّةَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ ۖ ٱللَّهُ يَجْمَعُ بَيْنَنَا ۖ وَإِلَيْهِ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٥﴾

---

پس دغه (توحید) ته پس وبوله (ای محمده ! دغه خلق) او محکم ولاړ اوسه (په دی دعوت) لکه چی امر حکم کړی شوی دی تاته او مه کوه متابعت د خواهشونو د دوی او ووایه (ای محمده ! دوی ته) ایمان می راوړی دی پر هغه چی نازل کړی دی الله له (جنسه د سماوی) کتاب څخه او امر حکم کړی شوی دی ماته چی عدل وکړم په منځ ستاسی کښی، الله رب دی زمونږ او رب دی ستاسی، مونږ ته ده (جزاء د) اعمالو زمونږ او تاسی ته ده (جزاء د) اعمالو ستاسی نشته هیڅ جګړه په منځ زمونږ او په منځ ستاسی کښی الله جمع به وکړی په منځ زمونږ (او تاسی کښی لپاره د فیصلی) او خاص هم ده ته بیا ورتلل دی.

**تفسیر :** یعنی کله چی د حق دین په متعلق د تفریق او اختلاف داسی طوفان له څو لرو خواوو څخه پورته شوی دی نو ستاسی فریضه دا ده چی په غیر متزلزل عزم او ټینګی ارادی سره د دغه دین او آئین په طرف خلقو ته هم هغسی بلنه، دعوت او تبلیغ وکړئ چی آدم او نوح او وروسته له هغو نور ګرد (ټول) انبیاء علیهم السلام نور خلق الله ته بلل تاسی شخصاً د الله تعالی له حکمه لږ شانی هم دی خوا او هغی خوا ته مه غورځیږئ! قولاً، فعلاً، عملاً او حالاً برابر پر هم هغی سمی صافی لیاری رهی (روان) اوسئ! چی تر اوسه پوری پری روان یئ. د مکذبینو او معاندینو د غوښتنو هیڅ پروا مه کوئ! او په صاف او ښکاره ډول (طریقه) سره د خپل تبلیغ اعلان وکړئ! او داسی ووایئ چی زه د الله تعالیٰ پر ټولو نازل کړیو شویو کتابونو اعم له دی نه چی توریت وی که انجیل، یا قرآن یا بله کومه صحیفه چی په هره زمانه کښی پر هر یو نبی نازل شوی دی د زړه له صدقه ایمان، ایقان لرم. زما کار د پخوانیو صداقتونو تکذیب نه دی. بلکه زه هغه ګرد (ټول) منم او باقی ئی پریږدم، او پر ما حکم صادر شوی دی چی ستاسی په منځ کښی عدل او انصاف وچلوم او د هغو اختلافاتو فیصله په عدالت او انصاف سره صادره کړم چی تاسی پخپل منځ کښی غورځولی دی. او د احکامو او شرائعو په تبلیغ، یا د خصوماتو په حل او فصل کښی د عدل او مساوات اصول قائم ودروم. هر هغه صداقت او رښتیا بی له تکلفه ومنم او تسلیم ئی کړم چی په هر ځای او په هر مذهب کښی وی. هم هغسی چی تاسی د الله تعالیٰ د بندګی او احکامو منلو په طرف رابولم له تاسی څخه ړومبی زه پخپله هم پر هغو پوره عمل کوم او غواړم چی د خپل پوره اطاعت صمیمیت او عابدیت تثبیت وکړم ځکه چی زه ښه پوهیږم چی زما او ستاسی رب هم هغه یو رب العالمین دی نو ښائی چی مونږ د هغه د خوښی او استرضاء دپاره زیار (محنت) او کار وکړو. که تاسی داسی ونه کړئ نو له تاسی سره زه هیڅ تعلق نه لرم او غرض نه نیسم ما خپل د دعوت او د تبلیغ فریضه اداء او له هغی ځنی په ښه شان سره فارغ شوی یم. له مونږ ځنی هیڅ یو د بل چا د اعمالو ذمه وار کیدی نشی د هر چا عمل له هغه سره مل دی، او هر څه ئی چی کړی وی هم هغه ئی په مخ ورځی او هر څه ئی چی کرلی وی هم هغه به ریبی. نو ښائی چی هر څوک د خپلو اعمالو نتائجو ته تیار او په انتظار اوسی! وروسته له دی نه د دی خبری ضرورت نه دی پاتی چی زه له تاسی سره جګړه، مباحثه او تکرار وکړم مونږ او تاسی او نور مخلوقات د الله تعالیٰ په حضور کښی خپل د حساب او کتاب دپاره حاضریدونکی یو هلته به هر یوه ته د دغی خبری اطلاع حاصلیږی چی ده له دنیا ځنی څه شیز د خپل ځان دپاره ګټلی او راوړی دی؟.

**تنبیه :** دغه آیت مکی دی او د قتال آیات په مدینی منوری کښی نازل شوی دی.

---

وَالَّذِينَ يُحَاجُّونَ فِي اللَّهِ مِنْ بَعْدِ مَا اسْتُجِيبَ لَهُ حُجَّتُهُمْ دَاحِضَةٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ﴿١٦﴾

او هغه کفار چی مخاصمه جګړی کوی په (دین د) الله کښی وروسته له دی نه چی قبولوالی کړی شوی دی (حکم د) دغه (الله) لره خصومت حجت د دوی باطل دی په نزد د رب د دوی او پر دوی غضب دی (د الله) او شته دوی ته عذاب ډیر سخت.

**تفسیر :** یعنی د الله تعالیٰ دین، او د ده کتاب، او د ده د خبرو صداقت په علانیه صورت ظاهر شوی دی، تر دی پوری چی د زیاتو عقلاؤ او پوهانو له خوا قبول او منلی شوی هم دی، او علیالاکثر سره له دی چی تر اوسه ئی دغه دین نه دی منلی خو سره له هغه د ده په حقانیت او صداقت اقرار کوی. نو سره له دی چی حق او حقیقت د ظهور او وضوح دغی درجی ته رسیدلی دی ولی خلق خامخا د دین په مورد کښی سره جنګ او جګړی نښلوی؟ او د محمدی دین د متابعینو سره مناقشی کوی؟ دوی د الله تعالیٰ د غضب او د سخت عذاب مستوجب دی. د دوی دغه ګردی (تولی) د دروغو جګړی او تمام ابحاث چتی (بیکاره) باطل او بی اساسه دی.

اَللّٰهُ الَّذِیٓ اَنۡزَلَ الۡکِتٰبَ بِالۡحَقِّ وَالۡمِیۡزَانَ ؕ

الله هغه (لوی ذات) دی چی نازل کړی ئی دی کتاب (قرآن) په حقه سره او میزان تله ئی هم مقرره کړی ده (چی خرڅوونکی او اخیستونکی دواړه نقصانی نشی)،.

**تفسیر :** الله تعالیٰ مادی تله (میزان) هم نازله کړی ده چی په هغی سره اجسام تلل کیږی او معنوی علمی تله ئی هم چی هغه ته سلیم عقل وائی او اخلاقی تله هم چی هغی ته عدل، انصاف او مساوات ویل کیږی او له ګردو (تولو) څخنی لوی او مهم میزان «حق دین» دی چی د خالق او مخلوق حقوق په ډیر ښه صورت سره تصفیه او بیلوی او په هغه کښی ګردی (تولی) خبری په ښه ډول (طریقه) سره داسی تللی شوی دی چی هیڅ تزئید او تنقیص پکښی نشته.

وَمَا یُدۡرِیۡكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ قَرِیۡبٌ ﴿۱۷﴾

او څه خیز خبر کړی ئی ته (په قرب د قیامت بی له وحی) ښائی چی ساعت (قیامت) نژدی وی (نو په ښو اعمالو ورته تیار شئ!).

**تفسیر :** یعنی خپل اعمال او احوال د کتاب الله په محک (کسوتئ) ومزئ! او د «حق دین» په

تله کښي ئی وتلی! او دغه خبره په ښه شان سره ځان ته معلومه کړئ چي په څه اندازه ستاسو اعمال خالص او کامل دی؟ دغه چاته معلومه ده چي د قیامت ساعت به ډیر نژدی رارسیدلی وی بیا په هغه وخت کښي به هیڅ نشي کیدی هر هغه فکر او ذکر او تیاری چي کوئ ښائی د هغه له رارسیدلو څخه مخکښي ئی وکړئ!.

يَسْتَعْجِلُ بِهَا الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِهَا ۚ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مُشْفِقُوْنَ مِنْهَا ۙ وَيَعْلَمُوْنَ اَنَّهَا الْحَقُّ ؕ اَلَآ اِنَّ الَّذِيْنَ يُمَارُوْنَ فِي السَّاعَةِ لَفِيْ ضَلٰلٍۭ بَعِيْدٍ ⑱

تعجیل کوی په راتللو د دغه (قیامت) هغه کسان چي نه راوړی ایمان په هغه (قیامت) باندی او هغه کسان چي ایمان ئی راوړی دی ویریدونکی دی له دغه (قیامت) او پوهیږی په دی چي بیشکه دغه (قیامت) حق دی واوره خبردار شه! بیشکه هغه کسان چي مخاصمه جګړی کوی په (راتللو د) قیامت کښي خامخا دوی په ګمراهی لری کښي دی (له حقه).

**تفسیر :** یعني هغه کسان چي پر قیامت یقین نه لری نو هغوی د توکو مسخرو په ډول (طریقه) په ډیری بی‌فکری او لاقیدی سره وائی چي صاحبه! هغه ستا قیامت کله راځی؟ ولی دومره ځنډ (ایسارتیا) او تعطیل په کښي کیږی؟ ولی ژر نه واقع کیږی؟ لیکن هغه ته چي الله تعالیٰ ایمان او یقین ور په برخه کړی وی هغوی د هغه هولناک ساعت له تصوره څخه ویریږی او ریږدی او لړځیږی او په دی ښه پوهیږی چي هم دغه شي واقع کیدونکی دی او هیڅوک د هغه د وقوع مخه نشي نیولی. نو ځکه تل د هغه په ذکر او فکر او تیاری کښي مشغول او لګیا اوسیږی نو له دی نه وپوهیږئ چي د دغو جګړه کوونکیو منکرانو حشر او نشر به څرنګه کیږی؟ کله چي یو سړی د قیامت په راتګ یقین نه لری نو دغه به څه تهیه او تیاری ورته وکړی؟ هو! هومره چي له دغه ثابت حقیقت څخه انکار او پری تمسخر کوی هومره په ګمراهی او ضلالت کښي ترقی او پرمخ تګ او له مسلماني او هدایت څخه مباعدت کوی.

اَللّٰهُ لَطِيْفٌ ۢ بِعِبَادِهٖ

الله ډیر لطف کوونکی ښه مهربان دی پر بندګانو خپلو.

**تفسیر** : یعنی (الله اکرم شانه واعظم برهانه) سره له تکذیبه او انکاره د هیچا روزی نه بندوی بلکه د بندگانو د خورا (ډیر) نریو نریو احوالو رعایت کوی. او په نهایت نرمی او لطیف تدبیر سره د دوی تربیت فرمائی.

یَرۡزُقُ مَن یَّشَآءُ ۚ وَ هُوَ الۡقَوِیُّ الۡعَزِیۡزُ ﴿۱۹﴾

رزق روزی ورکوی (الله) هغه چاته چی اراده وفرمائی او هم دی قوی زورور ښه زبردست ډیر غالب دی.

**تفسیر** : یعنی د هر چا په نسبت هر څه چی اراده ئی وی ورکوی ئی.

مَنۡ کَانَ یُرِیۡدُ حَرۡثَ الۡاٰخِرَةِ نَزِدۡ لَهٗ فِیۡ حَرۡثِهٖ ۚ

هر څوک چی وی دی چی اراده لری (په عمل سره ثواب) کښت (فصل) د آخرت نو زیادت کوو ده ته په کښت (فصل) د ده کښی،

**تفسیر** : د یوی نیکی لس چنده ثواب ورکوی بلکه تر اووه سوه چنده او له دی نه هم لا زیات. او په دنیا کښی د ایمان او صالح عمل په برکت کومه فراخی او برکت ئی چی پر برخه کیږی هغه بیل دی.

وَ مَنۡ کَانَ یُرِیۡدُ حَرۡثَ الدُّنۡیَا نُؤۡتِهٖ مِنۡهَا وَ مَا لَهٗ فِی الۡاٰخِرَةِ مِنۡ نَّصِیۡبٍ ﴿۲۰﴾

او هر څوک چی وی دی چی اراده لری (په عمل خپل سره متاع) کښت (فصل) د دنیا نو ورکړو ده ته له هغه (که اراده وفرمایو) او نه به وی ده ته په آخرت کښی هیڅ نصیب برخه (بی له جهنمه).

**تفسیر** : هر څوک چی د دنیا دپاره محنت او زحمت وگالی (برداشت کړی) نو سم له خپل قسمت سره برخه تری مومی. خو له دغه نه زیاته هیڅ یوه فائده په آخرت کښی نه وررسیږی. کما قال الله تعالیٰ فی جزء ۱۵ الرکوع (۲) آیت ۱۸ من

سورة بنيٓ اسرآئيل :    ﴿ عَجَّلْنَا لَهُ فِيهَا مَا نَشَآءُ لِمَن نُّرِيدُ ثُمَّ جَعَلْنَا لَهُ جَهَنَّمَ ﴾

أَمْ لَهُمْ شُرَكَٰٓؤُا شَرَعُوا لَهُم مِّنَ الدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَنۢ بِهِ اللَّهُ ۚ

آيا دى دوى لره شريكان چى ساز كړى دوى ليارہ هغوى ته له دين (د جاهليت) هغه (ځيز) چى اذن حكم نه دى كړى په هغه سره الله (دى كفارو ته لكه شرك او نور معاصى).

**تفسير :** يعنى الله تعالىٰ د خپلو انبياؤ په ژبه د دين، د آخرت حقه ليارہ ښوولى ده آيا ما سواء له الله څخه بل څوک داسى شته چى د بلى كومى ليارى د مقررولو حق او اختيار ورته حاصل وى؟ چى هغه د الله تعالىٰ حرام كړى شيان حلال يا حلال شيان حرام كړى؟ نو بيا دغو مشركانو د الله تعالىٰ هغه ليارہ چى انبياؤ عليهم السلام ښوولى ده ولى پريښوده؟ او بله ليارہ ئى له كومه راويستله؟.

وَلَوْلَا كَلِمَةُ الْفَصْلِ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ۗ وَإِنَّ الظَّٰلِمِينَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢١﴾

او كه چيرى نه وى (ويلى شوى) خبره د فيصلى (د تاخير د عذاب) نو خامخا حكم به كړى شوى وو په منځ د دغو (كفارو او مؤمنانو) كښى او بيشكه ظالمان چى دى شته دوى ته عذاب ډير درد وركوونكى.

**تفسير :** يعنى د فيصلى وعده ده په خپل وخت

تَرَى الظَّٰلِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا كَسَبُوا وَهُوَ وَاقِعٌۢ بِهِمْ ۗ

وبه وينى ته (په قيامت كښى) ظالمان ويريدونكى له جهته (د جزاء) د هغو (بديو) چى كړى ئى دى حال دا چى هغه (جزاء خامخا) به پريوتونكى واقع كيدونكى وى پر دوى.

**تفسير :** يعنى د خپلو اعمالو له نتائجو څخه كه نن نه ويريږى نو په هغه ورځ كښى به خو

هرومرو (خامخا) وویرېږی او دغه ویره خامخا پر دوی لویدونکی ده، حال دا چی دوی به د تیښتی د خلاصی او نجات دپاره هیڅ یوه لیاره نه مومی.

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فِيْ رَوْضٰتِ الْجَنّٰتِ ۚ لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۗ ذٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيْرُ ﴿٢٢﴾

او هغه کسان چی ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه) په (خورا ډیر) ښو پاکو) باغونو د جنت کښی به وی. وی به دوی ته هغه (نعمتونه) چی خوښ وی د دوی په نزد د رب د دوی، دغه (مذکور کرامت) هم دغه دی فضل ډیر لوی.

**تفسیر :** یعنی په جنت کښی هر قسم روحانی او جسمانی راحتونه او د خپل رب قرب شته چی هم دغه خورا (ډیر) لوی فضل دی د دنیا عیش او راحت د دی په مقابل کښی څه حقیقت لری؟.

ذٰلِكَ الَّذِيْ يُبَشِّرُ اللّٰهُ عِبَادَهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ؕ

دغه (ثواب) هغه دی چی زیری کوی الله (په هغه سره) پر هغو بندګانو خپلو چی ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه)،

**تفسیر :** یعنی الله تعالیٰ کوم زیری چی ورکړی هغه خامخا واقع کیدونکی دی.

قُلْ لَّآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا اِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبٰى ؕ

ووایه (ای محمده ! دوی ته) چی نه غواړم له تاسی په دغه (پیغام رسولو) اجر لیکن دوستی غواړم په قرابت خپلوی کښی،

**تفسیر :** د قرآن په شان دولت تاسی ته درکوم، او د ابدی نجات او فلاح لیاره درښیم، او د جنت زیری درکوم، دغه ټول محض لوجه الله دی. د دغی خیر غوښتنی او احسان څه معاوضه له

تاسي څنې نه غواړم تش يوه خبره غواړم چې له هغه نسبي او کورنۍ او قومي تعلقاتو څخه اقلا سترګې مه پټوئ چې زه ئې له تاسي سره لرم آخر ستاسي معامله له اقاربو، خپلوانو او عزيزانو سره څرنګه ده؟ دير کله د دوی بې موقعه حمايت هم کوئ زما وينا دا ده که تاسي زما خبره نه منئ مه ئې منئ! که زما دين نه قبلوئ، يا زما د تائيد او حمايت دپاره که نه دريږي هم څه خبره نشته، ليکن اقلا د قرابت او صلةالرحمي لږ څه خيال او رعايت په کار دی. ښائي چې له ظلم او ضرر رسولو او لاس غځولو څخه ستاسو (منع) شئ! او ماته دومره فرصت او موقع او آزادي راکړئ چې د خپل الله پيغام تولی دنيا ته ورسوم. آيا زه د دغومره دوستۍ او فطري محبت استحقاق هم نه لرم؟

**تنبيه :** د دی آيت دغه معنی له حضرت ابن عباس څخه په صحيحينو شريفينو کښې منقوله ده څينې له اسلافو د ﴿ إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَىٰ ﴾ مطلب داسي بيانوی چې تاسي پخپلو منځونو کښې يو له بل سره محبت وکړئ! او د قرابت او خپلوی حق وپيژنئ!. او څينې له «قربیٰ» د الله تعالیٰ قرب او نژديوالي مرادوی يعنې د هغو کارونو سره مينه او محبت ولرئ چې الله تعالیٰ ته نژدې کوونکي وی. ليکن صحيح او راجح تفسير هم هغه دی چه هغه مو په ابتداء کښې نقل کړ. څينې علماء له «المودة فی القربیٰ» څخه د نبوی د اهل البيت سره مينه او محبت لرل مرادوی او معنی ئې داسي بيانوی. «زه پر تبليغ له تاسي څخه هيڅ بدل نه غواړم فقط دومره هيله (اميد) لرم چې زما له اقاربو سره محبت وکړئ»! په دغه خبره کښې هيڅ د شک او شبهې ځای نشته چې د حضرت محمد رسول الله د اهل بيت او د اقاربو محبت، تعظيم او حقوق پيژندل پر محمدی امت لازم او واجب دی او د ايمان له اجزاؤ څخنې دی او له هغوی سره درجه په درجه محبت لرل په حقيقت کښې د رسول الکريم عليه افضل الصلوٰة والتسليم پر محبت او مودت متفرع دی ليکن د دی آيت تفسير په دی شان سره کول له شان نزول او صحيحه وو رواياتو سره مخالف او د رسول الکريم له رفيع شان سره هم دومره مناسب نه واقع کيږي. والله اعلم.

---

وَمَنْ يَقْتَرِفْ حَسَنَةً نَزِدْ لَهُ فِيهَا حُسْنًا ۚ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ شَكُورٌ ﴿٢٣﴾

---

او هر څوک چې وکړی نيک کارونه زيادت به کوو مونږ ده ته په هغه (نيک کار) کښې ښائست، بيشکه الله ښه مغفرت کوونکی (د معصيت) ښه قبلونکی (د طاعت) دی.

---

**تفسير :** يعنې که انسان د نيکۍ او ښيګڼې (فايدې) لياره اختيار کړی نو الله تعالیٰ هم د ده نيکۍ او ښيګڼه (فائده) زياتوی. په آخرت کښې د اجر او ثواب په اعتبار، او په دنيا کښې ښه اخلاق او ښايسته رشی (خويونه) ورعطاء کوی او د داسي سړی ښوئيدل هم ښيې، ښائي دلته د دی مضمون ذکر ئې ځکه فرمايلی وی چې اقلا د قرابت محبت مطلوب دی چې د هغه حاصل د

ایذاء او ظلم څخه ممانعت وو لیکن که څوک له دی نه زیاته نیکی وکړی نو هغه دی ښه وپوهیږی چی د الله تعالیٰ په دربار کښی د هیچا نیکی نه ضائع کیږی بلکه زیاتیږی.

أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا ۖ فَإِن يَشَإِ اللَّهُ يَخْتِمْ عَلَىٰ قَلْبِكَ ۗ وَيَمْحُ اللَّهُ الْبَاطِلَ وَيُحِقُّ الْحَقَّ بِكَلِمَاتِهِ ۚ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿۲۴﴾

آیا وائی (دا کفار) چی له خپل ځانه تړلی دی (محمد) پر الله دروغ پس که اراده وفرمائی الله نو مهر به کیږدی (د صبر) پر زړه ستا، او محو کوی (یا) پس که اراده وفرمائی الله نو مهر به کیږدی پر زړه ستا (زائل به کړی نازل شوی وحی له تانه) او محو کوی الله باطل او ثابتوی حق په کلماتو خپلو سره، بیشکه دغه (الله) ښه عالم دی په خبرو د سینو (زړونو) باندی هم.

**تفسیر :** یعنی که په فرض محال سره ته کومه خبره په دروغو سره جوړه او د هغی نسبت پاک الله ته وکړی نو الله تعالیٰ قدرت لری چی ستا پر زړه مهر ولګوی او بیا پرښته سره له دغه معجز نظام کلام پر تا نازل نشی او د وحی سلسله در څخه منقطعه شی، بلکه هغه خبری چی پخوا له دی نه پر تا نازلی شوی دی هم در څخه سلب او هیری کړی کما قال الله تعالیٰ فی جزء ۱۵ الرکوع (۱۰) آیت ۸۶-۸۷ من سورة بنیٓ اسرآئیل ﴿ وَلَئِن شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ بِالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ بِهِ عَلَيْنَا وَكِيلًا ۝ إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۚ إِنَّ فَضْلَهُ كَانَ عَلَيْكَ كَبِيرًا ﴾ مګر کله چی په واقع کښی قطعاً د کذب او افترا شائبه نشته نو ځکه یواځی د بدبختانو د قدر نه پیژندلو او د دوی د طعن او تشنیع لامله (له وجی) دغه لوی فیض له تاسی څخه نشی منقطع کیدی بیشکه چی د الله تعالیٰ به د دغه فیض جریان ته ادامه (ثبات) ورکوی او پخپلو خبرو به عملی دول (طریقه) سره دروغ په دروغ او رښتیا په رښتیا ثابتوی او په هغه وخت کښی به پر ګردو (تولو) دغه خبره په ښکاره او صاف دول (طریقه) سره څرګندیږی (ښکاریږی) چی په دغو فریقو کښی مفتری او دروغجن څوک دی؟ او د چا پر زړه باندی ئی فی‌الواقع مهر لګولی دی چی د خیر د نزول او د حق د قبول ځای او استعداد په کښی له سره نه دی پاتی شوی. پاتی شو دغه سوال چی د الله تعالیٰ هغه خبره کومه یوه ده چی په هغی سره دروغ محو او پنا کیږی او حق ثابتیږی؟ نو زما په نزد هغه هم هغه دلائل او براهین دی چی د قرآن او رسول الله پر تصدیق ئی قائم کړی دی. بالخصوص هغه انفسیه او آفاقیه آیات دی چی د هغو ذکر اوس د «حٰمٓ السجدة» په آخر کښی داسی وشو« ﴿ سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ ﴾

او د هغه په نسبت لازمه تفصیلات د هغه په تفسیر کښې وړکړل شول. د دغو آیتونو له ظاهریدلو څخه به د ګردو (تولو) سره او ناسره، کره او کوته حال په علانیه ډول (طریقه) واضح کیږي.

**تنبیه :** د دغه آیت په تفسیر کښې ډیر اقوال شته زما په نزد هم دغه مذکور مطلب بې تکلفه دی چې پاس ولیکه شو. په دغه تفسیر سره د ﴿ وَيَمۡحُ ٱللَّهُ ٱلۡبَٰطِلَ ﴾ جمله مستأنفه شوه لکه چې له ترجمې څخه هم ظاهر دی او اکثرو محققینو هم دغه غوره کړې ده البته د مضارع معنی مترجم رحمه الله په حال سره کړې ده چې هغه بیخي صحیحه ده مګر زما په خیال سره دلته د استقبال معنی اخیستل ترې زیات ښه لګیږي. والله اعلم. حضرت شاه صاحب قدس سره د ﴿ وَيَمۡحُ ٱللَّهُ ٱلۡبَٰطِلَ ﴾ عطف پر ﴿ يَخۡتِمۡ عَلَىٰ قَلۡبِكَ ﴾ باندې کوي لکه چې فرمائي «الله به ولې توفیق ورکوي چې پر الله دروغ وتړي زړه به ئې داسې بندوي چې له سره داسې کوم مضمون به کښې رانشي چې هغه پرې وتړلی شي که الله اراده وکړي نو کفر محو او زائل کوي، او بې له پیغامه هم خبرې لیږي مګر الله پر خپلو خبرو دین ثابتوي نو ځکه پر خپل نبي کلام لیږي.»

وَهُوَ ٱلَّذِي يَقۡبَلُ ٱلتَّوۡبَةَ عَنۡ عِبَادِهِۦ وَيَعۡفُواْ عَنِ ٱلسَّيِّـَٔاتِ وَيَعۡلَمُ مَا تَفۡعَلُونَ ﴿٢٥﴾ وَيَسۡتَجِيبُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَيَزِيدُهُم مِّن فَضۡلِهِۦۚ

او الله هغه (مهربان ذات) دی چې قبلوي توبه له بندګانو خپلو او عفوه کوي له بدو کارونو (د دوی پس له پښیمانۍ) او ورمعلوم دی هر هغه کار چې کوئ ئې تاسې او قبلوي (الله دعاء) د هغو کسانو چې ایمان ئې راوړی دی او کړي دي ښه (عملونه) او زیادت کوي (دوی ته) له مهربانۍ خپلې،

**تفسیر :** یعنې نبي د الله تعالیٰ کلام دررسوي، تاسې هغه رښتیا ګڼئ که دروغ وروسته له هغه د بندګانو ګرد (تول) معاملات له الله سره دي. له هر یوه بنده سره په دنیا او آخرت کښې سم د ده له حال او استعداد سره معامله کیږي د توبه کوونکیو توبه قبوله فرمائي او سره له دې چې پر هر شي ښه علیم، خبیر او پوه دی له ډیرو بدو معاملو څخه تیریږي او ښې ئې هغه ایمان دارن او نیک بندګان چې د ده خبرې آوري الله تعالیٰ هم د دوی دعاوې آوري او د دوی طاعاتو او عباداتو ته د قبول شرف ښښي او د هومره اجر او ثواب استحقاق چې دوی سم له عمومي ضابطې سره لري، هغوی ته پخپل فضل او مرحمت سره له هغه څخه زیات مرحمت فرمائي.

پاتې شول هغه منکرین او پاخه کفار چې دوی ته د موت تر وخت پورې د رجوع الی الله او د

تويي توفيق نه ميسر كيږي نو الله اكرم شانه واعظم برهانه د دوى عاقبت او انجام داسې بيان فرمائي.

وَالْكٰفِرُوْنَ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ﴿٢٦﴾ وَلَوْ بَسَطَ اللّٰهُ الرِّزْقَ لِعِبَادِهٖ لَبَغَوْا فِي الْاَرْضِ وَلٰكِنْ يُّنَزِّلُ بِقَدَرٍ مَّا يَشَآءُ ۭ اِنَّهٗ بِعِبَادِهٖ خَبِيْرٌۢ بَصِيْرٌ ﴿٢٧﴾

او كافران چې دي شته دوى ته عذاب ډير سخت (د دوزخ). او كه چيرې ارته فراخه كړي وى الله رزق روزي دپاره د (تولو) بندګانو خپلو نو خامخا سركشي به كړي وه دوى په ځمكه كښې وليكن نازلوي (روزي الله دوى ته) په هغې اندازې سره چې اراده وفرمائي، بيشكه الله پر بندګانو خپلو ښه خبردار دي ښه ليدونكي دي.

**تفسير :** د الله تعالیٰ په خزانو كښې د هيڅ يو شي تقليل نشته، كه الله تعالیٰ اراده وفرمائي نو خپل تول بندګان غني ګرځولي شي ليكن د الله تعالیٰ حكمت د دې خبرې مقتضي نه دى چې ګردو (تولو) مخلوقاتو ته بې له ميچه او اندازې روزي وركړي او تول په عيش او عشرت كښې آرام او هوسا (خوشاله) وساتي. كه داسې وكړل شي نو بالعموم خلق طغيان او تمرد اختياروي او په دنيا كښې يو لوى شور ماشور جوړيږي، نه به د الله تعالیٰ دربار ته خپل سرونه ښكته كوي او نه به د مخلوق څه رعايت او خاطر كوي، او نه به پر هغو سامانونو چې هغوى ته ورعطا كيږي خپل قناعت ښكاروي، د دوى حرص او طمع به لا زياتيږي لكه چې مونږ په هم دغه موجوده حالت كښې بالعموم په هوسا (آرام) او مرفه‌الحال اشخاصو كښې وينو هومره غناء چې د دوى په لاس ورځي لا د هغې د تزئيد او د تكثير طالب كيږي، د دوى دايمي كوشش او قلبي تمنا هم داسې وى چې نور ګرد (تول) كورونه دې تش شي او يوائځې زما كور دې ډک وي، ظاهر دى چې د داسې جذباتو په اثر د عمومي غناء او مرفه‌الحالي په صورت كښې څرنګه يو عمومي او زبردست تصادم او بد نظمي پيدا كيږي او داسې اوضاع او حالات راڅرګنديږي (راښكاريږي) چې د هيڅا سترګې به له هيڅا څخه نه شرميږي او نه به ترې ويريږي. هو! كه د دنيا د عمومي مذاق او رجحان په خلاف فرض ئې كړئ كه په كوم وخت كښې په فوق العاده صورت د كوم اعظم مصلح او كوم مامور من الله تر كتنې لاندې د عمومي خوښي او خوشالي او فارغ البالي مناظر او مظاهر وليدلي شي خو سره له هغه هم د تصادم، تخالف، تمرد، طغيان، تفاخر، غرور او سركشي وقائع واقع نشي او د زماني عظيم انقلاب د دنيا په طبائعو كښې تطور او انقلاب پيدا كړي نو هغه به له دغې عادې او اكثري قاعدې څخني جلا (جدا) او مستثنیٰ وي. په هر حال دغه دنيا په موجوده حالت كښې پر كوم اساس او نظام چې چليږي او تدوير لرى د

هغه اقتضاء هم دا ده چې نه ښائي غناء عمومي صورت ولرې بلکه هر چا ته ښائي د ده له استعداد او احوال سره سم هومره چې ورسره وړ (قابل) او لائق وي په هم هغې اندازې او میچ سره ورکړې شي، او پر دغه یواځې پاک الله ښه پوهیږي او عالم دی چې د چا په حق کښې په کوم حال کښې کوم وضعیت او صورت اصلح او اولیٰ دی؟، ځکه چې ګرد (ټول) پرومبنی او وروستني حالات د پاک الله په محیط علم کښې حاضر او موجود دي.

---

وَهُوَ الَّذِي يُنَزِّلُ الْغَيْثَ مِنْ بَعْدِ مَا قَنَطُوا وَيَنْشُرُ رَحْمَتَهُ ۚ وَهُوَ الْوَلِيُّ الْحَمِيدُ ﴿٢٨﴾

---

او الله هغه لوی ذات دی چې نازلوی باران وروسته له هغه چې نا امیده شي (خلق له وریدلو ئې) او خوروي رحمت (باران) خپل (په ټولو ځایونو کښې) او هم دی دی ولي دوست کار جوړوونکی ډیر ثناء ویلی شوی.

---

**تفسیر :** یعنی ډیر کله د ظاهري اسبابو او حالاتو په ملحوظ څه وخت چې خلق له باران او وریا څخه مأیوسیږي نو په هم دغه وخت کښې الله تعالیٰ پخپل فضل او مرحمت سره باران نازلوی او د خپلی مهربانی آثار او د برکاتو علائم څلور خواؤ ته خوروي څو پر بندګانو ثابت شي چې د رزق په شان د رزق اسباب هم د الله تعالیٰ د قدرت په قبضه کښې دي لکه چې الله تعالیٰ په یوی خاصې اندازې سره عطاء کوي باران هم په خاصو اوقاتو او په خاصو مقدار سره مرحمت فرمائي خبره دا ده چې ګرد (ټول) کارونه د ده په واک ( قبضه) او اختیار کښې دي او هر هغه شي چې دی ئې کوي عین د حکمت او صواب دی ځکه چې ټول محاسن او کمالات د ده په مجمع الصفات ذات کښې مجموع دي او د هر راز (قسم) کار جوړول امداد او اعانت د هم ده له درباره کیدی شي.

**تنبیه :** د الله تعالیٰ د رحمت او قدرت له طرفه مأیوس کیدل د کفارو عادت دی لیکن د یوه مؤمن په نظر کښې د اسبابو سلسله یأس راوړونکی کیدی شي لکه چې د جزء ۱۳ یوسف علیه السلام د سورت په ۱۰ رکوع ۸۰ آیت کښې داسې یو آیت لولو ﴿فَلَمَّا اسْتَيْأَسُوا مِنْهُ خَلَصُوا نَجِيًّا﴾ او د جزء ۱۳ یوسف علیه السلام د سورت په ۱۲ رکوع ۱۱۰ آیت کښې لولو ﴿حَتَّىٰ إِذَا اسْتَيْأَسَ الرُّسُلُ﴾

---

وَمِنْ آيَاتِهِ خَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ

---

او ځینی له دلائلو (د قدرت) د الله پیدا کول د آسمانونو او د ځمکی (او د مافیها) دي.

**تفسير :** يعنی هم هغسی چی رزق رسول او د هغه د اسبابو (باران او نورو) مهياء کول د ده په قبضه او واک (اختيار) کښې دی د دغو اسبابو سماويه او ارضيه اسباب او د هغو آثار او نتايج هم د هم ده مخلوق دی.

وَمَا بَثَّ فِيهِمَا مِن دَآبَّةٍ

او (پيدا کول) د هغو اشياؤ دی چی خواره کړی ئی دی په آسمانونو او په ځمکه کښې له ذی روح خوځيدونکيو.

**تفسير :** له دغه آيت څخه ظاهراً هم دا معلوميږی چی د ځمکی په شان پر آسمانونو هم د ساکښانو (ذی روحو) په شان کوم مخلوق موجود دی.

وَهُوَ عَلَىٰ جَمْعِهِمْ إِذَا يَشَآءُ قَدِيرٌ ﴿٢٩﴾

او دغه (الله) په جمع کولو (بيا راټولولو) د دوی (محشر ته) هر کله چی اراده وفرمائی ښه قادر دی.

**تفسير :** يعنی هغه ذات چی دوی ئی ګرد (ټول) خواره واره کړی دی هم هغه کولی شی چی دوی ګرد (ټول) سره يو ځای کړی او هم دغه به د قيامت ورځ وی.

وَمَآ أَصَابَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُوا عَن كَثِيرٍ ﴿٣٠﴾

او هغه څه چی رسيږی تاسی ته (ای مؤمنانو) له کوم مصيبت پس له (شامته) د هغو اعمالو دی چی کړی دی لاسونو ستاسی او عفوه کوی (الله) له ډيرو (ګناهونو).

**تفسير :** يعنی هم هغسی چی نعمتونه په يو خاصی اندازی او په خاصو اوقاتو او احوالو په رعايت ورکول کيږی د مصائبو نزول هم د خاصو اسبابو او ضوابطو ماتحت وی. مثلاً بندګانو ته

چې کومه سختي او مصیبت وروراندی کیږي د هغه قریب یا بعید سبب د هم دغو بندګانو ځینی اعمال او افعال وي. عیناً د دوی په شان چې انسان د غذاء او د نورو شیانو له بی احتیاطی څخه رنځور شي بلکه په ځینو اوقاتو کښې ترې مړ هم شي یا ځینی اوقات د میندو له بد پرهیزی څخه وړوکیو ته رنځ او درد رسیږي. یا کله د یوی کوڅې او محلې یا د یوه ښار د بی تدبیری او حماقت له سببه پوره محلې یا ښار ته نقصان رسیږي هم دغه حال دی د روحانی او باطنی بدپرهیزی او بې‌تدبیری او ښائی چې دغه دی پر هغه قیاس کړی شي. ګواکې د دنیا هر مصیبت د بندګانو د ځینو ماضیه وو اعمالو نتیجه ده او په مستقبل کښې د دوی دپاره د تنبیه او امتحان موقع وربرابروی. او دغه د دی لامله (له وجې) ده چې د الله تعالیٰ رحمت د بندګانو له ډیرو ګناهونو څخه تیریږي. که پر هر یوه جرم نیونه او پوښتنه وی نو د ځمکې پر مخ به یو ساداړ هم نه پاتی کیده. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکي « دغه خطاب دی عاقلو او بالغو خلقو ته اعم له دی چې صالح وی که طالح مګر انبیاء علیهم السلام په دغه کښې نه دی داخل او وړوکې هم په کښې نه دی شامل د هغوی دپاره به بل شی وی. په دغی سختی کښې دنیوی سختی او د قبر او اخروی سختی هم داخلی دی».

وَمَآ أَنتُم بِمُعْجِزِينَ فِى ٱلْأَرْضِ ۖ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِىٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿٣١﴾

او نه یئ تاسی عاجز کوونکی (د الله ای مشرکانو په انفاذ د احکامو خپلو سره) په ځمکه کښې او نشته تاسی ته غیر له الله هیڅوک ولي دوست کار جوړوونکی او نه مدد کوونکی (د دفع د عذاب له تاسی نه).

**تفسیر :** یعنی محض پخپلی مهربانی سره ئې معافوی که پر هر جرم چې د سزا ورکولو اراده وفرمائی نو مجرم چیری ترې تښتیدلی او پټیدلی هم نشي او له ما سوا الله څخه بل څوک د ده د حمایت او امداد دپاره دریدلی شي؟.

وَمِنْ ءَايَٰتِهِ ٱلْجَوَارِ فِى ٱلْبَحْرِ كَٱلْأَعْلَٰمِ ﴿٣٢﴾

او ځینی له دلائلو (د قدرت) د الله روان جهازونه دی په بحر سیند کښې په شان د غرونو (په لویوالی کښې).

**تفسیر :** لکه چې د ځمکې پر سطح غرونه د باندی وتلی دی د سمندر لوی لوی جهازونه هم

لوړ (اوچت) په نظر راځي.

إِن يَشَأْ يُسْكِنِ الرِّيحَ فَيَظْلَلْنَ رَوَاكِدَ عَلَىٰ ظَهْرِهِ ۚ

که اراده وفرمائي (الله) نو وبه دروي دغه باد (محرکه قوت) پس وبه ګرځي (دغه جهازونه) ولاړ په شان د دغه (بحر)،

**تفسیر :** یعني (محرکه قوه او) هوا هم د الله تعالیٰ په قبضه کښې ده که دغه محرکه قوه او هوا ودروي چې ونه چلیږي نو ګرد (تول) بادوان لرونکي جهازونه د سمندرو پر شا چیرې چې ولاړ دي هم هغلته به ولاړ وي. الغرض اوبه او هوا او نور ګرد (تول) شیان د الله د حکم او د فرمان تابعان دي.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴿٣٣﴾

بیشکه په دغه (حرکت د جهازونو) کښې خامخا لوی دلائل (د قدرت) دی دپاره د هر صبر کوونکي (په مصیبت) شکر کوونکي (په نعمت).

**تفسیر :** د سمندرو په سفرونو کښې د موافق او ناموافق له دواړو قسمو حالاتو سره د مسافرینو سابقه لویږي نو ځکه دغه امر ډیر ضرور دی چې انسان پر موافقو حالاتو شاکر، او پر ناموافقو اوضاعو صابر اوسي او د الله تعالیٰ قدرت او نعمت په ښه شان وپیژني.

نو که اراده وفرمائي الله جل وعلا شانه وعظم برهانه

أَوْ يُوبِقْهُنَّ بِمَا كَسَبُوا وَيَعْفُ عَن كَثِيرٍ ﴿٣٤﴾

یا به هلاک (ډوب) کړي دغه (جهازونه) په سبب د هغو ګناهونو چې کړي دي (راکبینو ئې) او عفو کوي (الله) له ډیرو (ګناهونو نو ځکه ئې نه غرقوي).

**تفسیر :** یعني ښائي چې د بعضو مسافرینو د ځینو اعمالو په بدل تباه او مغروق کړل شي مګر د دغه تباهي په وخت کښې هم الله دوی معافوي او بښي ئې.

وَيَعْلَمَ الَّذِينَ يُجَادِلُونَ فِي آيَاتِنَا مَا لَهُم مِّن مَّحِيصٍ ﴿٣٥﴾

او چي پوه شي هغه کسان چي مجادلي جګړي کوی په آیتونو زمونږ کښي چي نشته دوی ته هیڅ ځای د خلاصیدلو.

**تفسیر :** یعني د دی لامله (له وجی) به تباه کړل شي څو دوی د خپلو ځینو اعمالو بدل ومومي او خورا ډیر لوی جګړه کوونکي هم وګوری چي بیشکه د الله تعالیٰ له نیولو څخه هیڅوک نشي وتلی او نه تښتیدلی شي او نه چیری تری د پټیدلو ځای موندلی شي. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکي «هغه کسان چي هر شي د خپلو تدابیرو له نتائجو څخه ګڼي په دغه وخت کښي حیرانیږی» او یوه چاره او تدبیر به ئی له لاسه نه وی پوره.

فَمَآ أُوتِيتُم مِّن شَيْءٍ فَمَتَٰعُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٣٦﴾

پس هغه چي درکړی شوی دی تاسی ته (ای مخاطبانو) له څه څیزه (لکه اسباب د دنیا) لږ خسیس ده (چي زائلیږی) او هغه ثواب چي په نزد د الله دی خیر غوره او ډیر باقي پاتي کیدونکي دی دپاره د هغو کسانو چي ایمان ئی راوړی دی او (خاص) پر رب خپل توکل کوی دوی.

**تفسیر :** یعني د دغو ګردو (تولو) خبرو له اوریدلو څخه وروسته انسان ته لازم دی چي د الله تعالیٰ د رضاء حاصلولو په فکر کښي واوسي او پر دغه څو ورځني ژوندون او فاني عیش مغرور نشي او ښه وپوهیږی چي ایماندارانو ته کوم عیش او آرام چي د الله تعالیٰ له جانبه ورعطاء کیږی هغه به د دغه دنیوی عیش او آرام څخه ډیر ښه او با دوامه وی او نه به په هغه کښي هیڅ قسم کدورت وی او نه به ئی د فناء او زوال څه اندیښنه وی.

وَٱلَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَٰٓئِرَ ٱلْإِثْمِ وَٱلْفَوَٰحِشَ وَإِذَا مَا غَضِبُوا۟ هُمْ يَغْفِرُونَ ﴿٣٧﴾

او (بل دپاره د) هغو کسانو چي ځان ساتي دوی له غټو ګناهونو او له فواحشو (قبائحو نورو ګناهونو نه) او هر کله چي په غضب شي هم دوی ښښنه

کوی.

**تفسیر** : د دی بیان د «نساء» په سورت کښی د ﴿ إِنْ تَجْتَنِبُوا كَبَائِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ ﴾ په تفسیرو کښی لیکلی شوی دی هلته دی بیا ولوست شی. ښائی دلته له «کبآئر الاثم» څخه به هغه لویه ګناه مراده وی چی د نظریه وو قوت له بدو کارونو څخه پیدا کیږی مثلاً بدعیه وو عقائدو او «فواحش» هغه ګناهونه چی په هغو کښی د شهوانیه وو قواوو د بی اعتدالیو مداخله وی او په ﴿ وَإِذَا مَا غَضِبُوا هُمْ يَغْفِرُونَ ﴾ کښی خو ظاهر دی چی د غضبیه وو قوت اندفاع او انسداد کړی شوی دی والله اعلم.

وَالَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ

او (بل دپاره د) هغو کسانو چی اجابت کوی (د احکامو) د رب د دوی او قائموی (اداء کوی سره له تولو حقوقو) لمونځ او کار د دی (په) مشورت (سره) وی په منځ د دوی کښی.

**تفسیر** : په مشوره سره کار کول د الله تعالیٰ خوښ دی اعم له دی چی دغه مشوره په دنیوی امورو کښی وی یا په آخروی امورو په شیونو کښی وی رسول الله مبارک د امورو په مهماتو کښی برابر له کرامو اصحابو سره مشوره کوله، او صحابه وو به هم پخپلو منځونو کښی سره مشوره کوله د حربو او نورو امورو په موضوعاتو کښی او د ځینو مسائلو او احکامو په نسبت هم بلکه د راشده خلافت بنیاد پر هم دغی مشوری قائم شوی وو. دغه ظاهر دی چی د مشوری ضرورت په هغو کارونو کښی شته چی مهتم‌بالشان وی او په کتاب د الله، او د رسول الله په سنت کښی منصوص نه وی هر شی چی منصوص وی په هغه کښی رأیه او مشوره هیڅ معنی او مورد نه لری او که په هر لوی او واړه کار کښی مشوره وکړی شی نو هیڅ کار به په سر نه رسیږی. له احادیثو څخه معلومیږی چی مشوره دی له هم هغسی سړی څخه واخیسته شی چی عاقل او عابد وی که نه د هغه له بیوقوفی او بد دیانتی څخه د کار د خرابیدلو اندیښنه شته.

وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ ﴿٣٨﴾ وَالَّذِينَ إِذَا أَصَابَهُمُ الْبَغْيُ
هُمْ يَنْتَصِرُونَ ﴿٣٩﴾

او له ځینو د هغو شیانو چی ورکړی دی مونږ دوی ته نفقه کوی (په لیاره د الله) او (بل دپاره د) هغو کسانو کله چی ورسیږی دوی ته ظلم تعدی (له

طرفه د کفارو) نو دوی انتقام اخلی (له هغو متجاوزو خلقو).

**تفسیر :** یعنی چیری چی معافول مناسب وی معافوی ئی مثلاً د یوه سری پر یوه حرکت ئی غصه راغله او هغه سره له ندامته پر خپل عجز او قصور هم اعتراف وکړ او دی ئی معاف کړی، دغه محمود دی. چیری چی بدل اخیستل مصلحت وی مثلاً کوم سری خامخا بی سببه او بی جهته له خلقو سره منګلی لګوی یا خوله اچوی، او په ظلم او زور سره د مخلوق تعجیز او تحقیر ته ئی ملا ترلی وی، یا د څه نه ویلو او تأدیب نه ورکولو څخه د ده حوصله او جرئت لا زیادت مومی. یا زمونږ له شخصی حیثیت څخه قطع نظر د دین اهانت یا د مسلمینو د جمعیت ذلت په کښی متصور وی نو په دغو پاس صورو کښی دی داسی بدل او انتقام اخلی چی په قدر د هم هغه تیری او زیادت وی او له جرم څخه زائده سزا نه ورکوی.

وَجَزٰٓؤُا سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثۡلُهَا ۚ

او جزاء د بدکار بدکار دی په شان د هغه (نه زیات).

**تفسیر :** د بدل او انتقام په طور سره کومی بدی چی له چا سره کولی شی هغه حقیقتاً بدی نه بلکه صورتاً بدی وی. د «سیئة» اطلاق پر هغه «مشاکلةً» کړی شوی دی.

فَمَنۡ عَفَا وَأَصۡلَحَ فَأَجۡرُهُۥ عَلَى ٱللَّهِ ۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلظَّٰلِمِينَ ۝٤٠

پس هر چا چی عفو وکړه او صلح ئی وکړه پس اجر د ده پر الله دی بیشکه الله نه خوښوی ظالمان (شروع کوونکی په ظلم سره).

**تفسیر :** یعنی ظلم او زیادت د الله تعالیٰ په نزد په هیڅ یوه حالت کښی پسند نه دی. دیر ښه خصلت هم دغه دی چی انسان هغومره بدل او انتقام چی اخیستی هم شی له هغه څخه هم منصرف شی مشروط په دی سره چی د هم دغو تیریدلو په سبب هغه خبره اصلاح وموی.

وَلَمَنِ ٱنتَصَرَ بَعۡدَ ظُلۡمِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَا عَلَيۡهِم مِّن سَبِيلٍ ۝٤١

او خامخا هغه څوک چی واخلی حق خپل پس له مظلوم کیدلو د ده پس دغه کسان (چی خپل حق ئی اخیستی دی) نشته پر دوی هیڅ لیاره (د معاتبت او ملامتیا).

**تفسير :** يعني كه مظلوم له ظلم څخه خپل بدل او انتقام اخلي نو په دغه كښې پرى هيڅ الزام او ګناه نشته مګر د هغه معافول او ترى تيريدل ډير ښه، احسن او افضل دى.

إِنَّمَا السَّبِيلُ عَلَى الَّذِينَ يَظْلِمُونَ النَّاسَ

بيشكه هم دا خبره ده چې لياره (د معاتبت) پر هغو كسانو ده چې (ابتداء په) ظلم كوى پر خلقو.

**تفسير :** يعني ابتداء په ظلم كوى، يا په انتقام اخيستلو كښې د خپل استحقاق له حده تجاوز او تيرى كوى.

وَيَبْغُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ۚ أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٤٢﴾ وَلَمَن صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ ﴿٤٣﴾

او سركشى (تجاوز) كوى په ځمكه كښې په ناحقه سره (بى له حجته) دغه (ظالمان) شته دوى ته عذاب دردناك او خامخا هغه څوک چې صبر (او تحمل ئې وكړ په ظلم او آزار) او ښښنه ئې وكړه، بيشكه دغه (صبر، غفران او عفو) خامخا له عزم الامور غورو كارونو څخه دى.

**تفسير :** يعني د قهر او د غصې ځغمل، او د ايذاء او ضرر ګالل (برداشت كول)، او د ظالم ښښل او معافول د لوى همت او د تحمل او حوصلې كار دى. په حديث كښې راغلي دى «هغه بنده چې ظلم پرى شوى وى او هغه محض د الله تعالىٰ دپاره ترى تيريږى او ښښى ئې نو الله تعالىٰ ضرور د هغه عزت او پت زياتوى، او مدد او اعانت ورسره فرمائى».

وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِن وَلِيٍّ مِّن بَعْدِهِ ۗ

او هر هغه څوک چې ګمراه ئې كړى الله پس نشته ده ته هيڅوک ولى دوست كار جوړوونكى وروسته له (ګمراه كولو د) الله نه.

**تفسیر :** یعنی محض د الله تعالیٰ په توفیق او لاس نیونه انسان ته د عدل، انصاف، صبر او غفران اعلیٰ خصائل حاصلیدی شي. که الله تعالیٰ ده ته د دغو ډیرو ښو اخلاقو په طرف لیار ښوونه ونه کړی نو څوک به ئی لاس ونیسی؟ او د دغی سپکتیا او تیتوالی او رسوائی له کندی څخه بی ئی ویستلی شي؟.

وَتَرَى الظّٰلِمِيْنَ لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ يَقُوْلُوْنَ هَلْ اِلٰى مَرَدٍّ مِّنْ سَبِيْلٍ ﴿۴۴﴾

او وینی به ته ظالمان (کافران) هر کله چی ووینی دوی عذاب (په ورځ د قیامت کښی) وائی به دوی آیا شته بیرته تللو (د دنیا) ته کومه لیاره (چی بیرته د مافات تدارک وکړو؟).

**تفسیر :** یعنی کومه داسی لیاره هم شته چی مونږ په هغی سره بیرته دنیا ته ستانه (واپس) شوی او دا محلی له دنیا څخه سره له ښو عملونو بیرته دلته راحاضر شو.

وَتَرٰىهُمْ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا خٰشِعِيْنَ مِنَ الذُّلِّ يَنْظُرُوْنَ مِنْ طَرْفٍ خَفِيٍّ

او وینی به ته دوی چی وړاندی کولی به شي په دغه اور په دغه حال کښی چی ویریدونکی به وی له خواری ګوری به دوی (دغه اور ته) په کتنی پټی (له ډیر هیبته به د سترګو له کنجونو ورته ګوری).

**تفسیر :** یعنی د یوه ډیر ویریدونکی مجرم په شان د ډیر خوف، ذلت او ندامت له سببه به په تیتو سترګو سره ګوری او هیچا ته به په هسکه غاړه او اوچتو سترګو نه شي کتلی.

وَقَالَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ الْخٰسِرِيْنَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ وَاَهْلِيْهِمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

او وائی به هغه کسان چی ایمان ئی راوړی دی (داسی چی) بیشکه زیانکاران هغه کسان دی چی زیان ئی رسولی دی نفسونو خپلو ته او کورنی خپلی ته

په ورځ د قیامت کښې (په خلود فی‌الجحیم او حرمان من النعیم سره).

**تفسیر :** یعنی دغه بدبخت له خپل ځان سره خپل متعلقین او کورنی او ګرد (تول) ئې سپیره او په عذابونو کښې اخته کړل او تول ئې تباه ، برباد او کړل.

أَلَآ إِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ فِي عَذَابٍ مُّقِيمٍ ﴿٤٥﴾ وَمَا كَانَ لَهُم مِّنْ أَوْلِيَآءَ يَنصُرُونَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ ۗ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن سَبِيلٍ ﴿٤٦﴾

واوره ! خبردار شه! چې بیشکه ظالمان په عذاب همیشه کښې دی. او نه به وی دغو کفارو ته هیڅوک له دوستانو چې مدد وکړی له دوی سره (په دفع د عذاب کښې) غیر له الله او هر هغه چې ګمراه ئې کړی الله پس نه به وی ده ته هیڅ لیاره (حق ته په دنیا کښې او جنت ته په آخرت کښې.)

**تفسیر :** یعنی نه ئې په دنیا کښې هدایت وربه برخه کړ، او نه ئې په آخرت کښې نجات ور په برخه شو.

ٱسْتَجِيبُوا۟ لِرَبِّكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهُۥ مِنَ ٱللَّهِ ۚ

اجابت وکړئ (ای خلقو!) رب د تاسی ته (په ایمان او توحید سره) پخوا له هغه چې راشي (هغه) ورځ چې نشته هیڅ رد او دفعه هغې (ورځې) لره له (جانبه د) الله،

**تفسیر :** یعنی هم هغسی چې په دنیا کښې د هغه عذاب مؤخر کیده او وروسته لویده په هغه ورځ کښې به نه وروسته لویږی او نه به تال خوری (بلکه حتماً او خامخا عذاب به واقع کیږی).

مَا لَكُم مِّن مَّلْجَإٍ يَوْمَئِذٍ وَمَا لَكُم مِّن نَّكِيرٍ ﴿٤٧﴾

نه به وی تاسی ته هیڅ د پتیدلو (تښتیدلو) ځای په دغه ورځ کښې او نه به وی تاسی ته هیڅ لیاره د انکار (له ګناهونو).

**تفسیر :** یعنی له انکار څخه به هیڅ فائده نه وررسیږی او ابن کثیر رحمة الله علیه داسی معنی کری ده چی هیڅ یوه داسی موقع به نه پیدا کیږی چی تاسی به هغه نه پیژنئ.

فَإِنْ أَعْرَضُوا فَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا ۖ إِنْ عَلَيْكَ إِلَّا الْبَلَاغُ ۗ

پس که مخ وګرځوه (دغو مشرکانو له دعوته ستا ای زما رسوله!) پس نه ئی لیږلی مونږ ته پر دوی ساتونکی، نشته پر تا مګر یوازی تبلیغ (د احکامو دی او کړی دی تا ای محمده دا کار).

**تفسیر :** یعنی ای محمده صلی الله علیه وسلم تاسی د دی خبری مسؤل او ذمه وار نه یئ چی یوازی هرومرو (خامخا) په جبر او اکراه او زور سره دغه خبره پر هغوی ومنئ، ستاسی فریضه او وظیفه هم دا ده چی د الله تعالیٰ پیغام دوی ته ورسوئ چی هغه تاسی اداء کړی ده او اداء کوئ ئی، که دوی ئی نه منی بلا وریسی دوی پوهیږی او جهنم.

وَإِنَّا إِذَا أَذَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنَّا رَحْمَةً فَرِحَ بِهَا ۖ وَإِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ فَإِنَّ الْإِنْسَانَ كَفُورٌ ﴿٤٨﴾

او بیشکه مونږ کله چی وڅکوو (جنس) د انسان ته له طرفه خپله کوم رحمت (لکه غناء او صحت) نو خوشاله شی دی په هغه او که ورسیږی دوی ته کوم قسم بدی (لکه مرض یا فقر) په سبب د هغو بدیو چی پخوا لیږلی دی لاسونو د دوی بیشکه چی (جنس د) انسان ناشکره دی (چی نعمت هیروی زحمت یادوی).

**تفسیر :** یعنی تاسی د دوی د مخ اړولو او اعراض څخه مه خفه کیږئ! د انسان طبیعت هم داسی واقع شوی دی «الا من شاء الله» چی که پاک الله پری نعمت، احسان او انعام وفرمائی نو دی له هغه سببه تکبر، لوئی فخر او غرور کوی بیا هر څیری چی ده ته د ده د بدو اعمالو له شامته کوم مصیبت، نقص او ضرر واقع کیږی نو بیا هغه ګرد (ټول) نعمتونه او احسانات ئی له یاده وځی او هیروی ئی او داسی منکر او ناشکره کیږی چی ګواکی پری ښه وخت له سره نه وو تیر شوی. خلاصه ئی دا چی که د عیش او عشرت نعمت او فراخی او ارتوالی حالت وی، یا که د تنګی سختی، تکلیف او مصیبت وخت دوی په دغو دواړو حالاتو پخپل حد او ځای کښی نه دریږی. هو! د قانتینو مؤمنینو شان او طریقه هم داسی ده چی په سختی او مصیبت کښی صبر،

او د وسعت او فراخی په حالت کښې د حقیقي منعم شکریه اداء کوی او په هیڅ حالت کښې د الله تعالیٰ انعامات او احسانات نه هیروی او له ناشکری ځنې ځان بچ کوی.

لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ؕ يَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ اِنَاثًا وَّيَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ الذُّكُوْرَ ۙ﴿٤٩﴾ اَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَّاِنَاثًا ۚ وَيَجْعَلُ مَنْ يَّشَآءُ عَقِيْمًا ؕ اِنَّهٗ عَلِيْمٌ قَدِيْرٌ ﴿٥٠﴾

خاص الله لره ده سلطنت باچائی د آسمانونو او د ځمکی، پیدا کوی (الله) هر هغه شی چی اراده وفرمائی، ښښی دپاره د هر هغه چا چی اراده وفرمائی لونی او ښښی (الله) دپاره د هر هغه چا چی اراده وفرمائی ځامن یا جوړه ورکوی دوی ته (الله) ځامن او لونی او ګرځوی هر هغه څوک چی اراده وفرمائی (الله) شنده، بیشکه دغه (الله) دی ښه عالم (په فائدی د هر چا) ښه قادر (په هر شی باندی چی اراده وفرمائی).

**تفسیر :** یعنی سختی وی یا نرمی وی ګرد (ټول) احوال د الله تعالیٰ له لوری لیږلی شوی دی په آسمان او ځمکه او پر هر شی د هم هغه سلطنت دی او د هم ده حکم چلیږی، د هر هغه شی اراده چی وکړی هم هغه پیدا کوی او د هر چا دپاره چی د هر شی د اعطاء اراده وفرمائی ورعطاء کوی ئی او هر چاته چی د عدم الاعطاء اراده وفرمائی نه ئی ورکوی د دنیا دغه رنګ په رنګ حالاتو ته وګورئ چی مثلاً یو له سره اولاد نه لری او دوهم تش لونی لری، دریم تش ځامن لری، څلورم هم ځامن او هم لونی لری، جوړه جوړه یا جلا جلا (جدا جدا) په دغه کښې هیڅ دعوی نه ده هم هغه حقیقي مالک پوهیږی چی د کوم یوه سړی په کوم حالت کښې ساتل مناسب دی او هم دی سم له خپل علم او حکمت سره تدبیر کوی هیچا ته د دغی خبری قوت او مجال نشته چی د الله تعالیٰ د ارادی مخه ونیسی یا د الله تعالیٰ پر تخلیق او تقسیم څه تنقید اعتراض وکړی شی د عاقل کار دا دی چی په هر قسم تودو او سړو حالاتو کښې د هم هغه الله په طرف رجوع وکړی او تل دی خپل ناچیز حقیقت تر خپل نظر لاندی ونیسی! او د تکبر او د نعمت له کفرانه دی خپل ځان وساتی!.

وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنْ يُّكَلِّمَهُ اللّٰهُ اِلَّا وَحْيًا اَوْ مِنْ وَّرَآئِ حِجَابٍ اَوْ يُرْسِلَ رَسُوْلًا فَيُوْحِيَ بِاِذْنِهٖ مَا يَشَآءُ ؕ

او نه ښائی دپاره د هیڅ بشر دا چی خبری وکړی له ده سره الله مګر په وحی سره (په خوب کښی یا په الهام سره) یا وروسته له پردی څخه یا ولیږی (الله) کوم رسول استاځی (له ملائکو لکه جبریل) پس وحی یوسی په اذن حکم د الله سره هغه چی اراده وفرمائی (الله).

---

**تفسیر :** هیڅ یو انسان پخپل عنصری خلقت او د موجوده‌وو قواؤ په اعتبار د دی خبری طاقت نه لری چی له الله قدوس سره په دغی دنیا کښی مخامخ شی او ورسره بالمشافهه کلام وفرمائی او دی ئی تحمل وکړی شی نو ځکه د کوم بشر له الله تعالیٰ سره خبری او کلام کول دری صورتونه لری.

الف: واسطه په پرده کښی کلام فرمایل یعنی د الله تعالیٰ له کلامه د سامعی له قوت سره د نبی متلذذ کیدل مګر په دغه حالت کښی د نبی سترګی د الله تعالیٰ له لقاء څخه نشی متمتع کیدی لکه چی حضرت موسیٰ علیه السلام ته د طور پر غره او خاتم الانبیاء محمدالمصطفیٰ صلی الله علیه وسلم ته په لیلة الاسراء کښی ور د مخه شو.

ب : د پرښتی په واسطه د الله تعالیٰ کلام فرمایل مګر چی پرښته متجسده نشی او د ده تر سترګو لاندی رانشی بلکه مستقیماً د نبی پر قلب نزول وکړی او په قلب سره د پرښتی د نزول ادراک او د صورت احساس وشی او ظاهری حواس په هغه کښی څه مداخله ونه کړی شی زما په خیال دغه هغه صورت دی چی د هغه په نسبت د حضرت صدیقی بی‌بی عائشی رضی الله تعالیٰ عنها په حدیث کښی راغلی دی **«یأتینی فی مثل صلصلة الجرس»** او په صحیح بخاری شریف د بدء الخلق په ابواب کښی د وحی د دغه صورت د پرښتی د راتللو تصریح هم موجوده ده هم دغه ته ئی په حدیث کښی «وهو أشده علیَّ» فرمایلی دی. او ښائی چی قرآنی وحی علی‌الاکثر په هم دغه صورت سره نازله شوی وی. لکه چی په ﴿ نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ عَلَىٰ قَلْبِكَ ﴾ او ﴿ فَإِنَّهُ نَزَّلَهُ عَلَىٰ قَلْبِكَ بِإِذْنِ اللَّهِ ﴾ کښی د «قلبک» په لفظ سره دی ته اشاره ده چی دغه معامله بیخی مخفی او پته سره اجرا کیده او د رسول الله له وجوده بیل کوم موجود په نظر نه راته او نه به داسی خبری سره کیدی لکه چی یو انسان ئی له بل انسان سره کوی چی ورسره نژدی کیناستونکی نور انسانان هم پری وپوهیږی نو ځکه د داسی خصوصیت ذکر ئی په دغه آیت کښی په «وحیاً» سره وفرمایه. ولی چی «وحی» په لغت کښی پر اخفاء او سریعه اشاره باندی دلالت کوی.

ج : دریم صورت دا دی چی پرښته ورمتجسده شی او نبی ته مخامخ راشی او په دی ډول (طریقه) سره د الله تعالیٰ کلام او پیغام ورسوی. لکه چی یو انسان له بل انسان سره خبری او بیان کوی. لکه چی حضرت جبریل علیه السلام یو یا دوه ځلی پخپل اصلی صورت سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حضور مشرف شوی دی او نور علی‌الاکثر د حضرت دحیة الکلبی رضی الله تعالیٰ عنه

په شکل راته او کله به د غیر معروف انسان په صورت هم راته په دغه وخت کښې به سترګو د پرښتی صورت لیده او غوږونو به ئی غږ آوریده، او نور حاضرین به هم د ده پر خبرو پوهیده او د دوی له خبرو او اترو څخه به مستفید کیده. د حضرت صدیقی بیبی عائشی رضی الله تعالیٰ عنها په حدیث کښې چې دوه قسمه بیان شوی دی له هغه څخه دغه ئی دوهم صورت دی او زما په خیال هم دغه ئی په دغه آیت کښې په دغو الفاظو سره تعبیر فرمایلی دی ﴿ أَوْ يُرْسِلَ رَسُولًا فَيُوحِيَ بِإِذْنِهِ مَا يَشَاءُ ﴾ والله اعلم بالصواب. باقی حجاب والا صورت څرنګه چې بیخی نادر بلکه پته او مخفی دی نو ځکه د حضرت صدیقی بی بی عائشی رضی الله تعالیٰ عنها په حدیث کښی له هغه سره بالکل تعرض نه دی کړی شوی.

إِنَّهُ عَلِيٌّ حَكِيمٌ ﴿٥١﴾

بیشکه دغه (الله) ډیر پورته غالب دی (په انزال د وحی کښې) ښه حکمت والا دی (په صنعت خپل کښې).

**تفسیر :** یعنی د الله تعالیٰ علو له دی نه مانع دی چې بی حجابه خبری وکړی او حکمت ئی د دی مقتضیٰ دی چې په ځینو صورتونو کښې د هم کلامی صورت اختیار کړی.

وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ أَمْرِنَا ۚ

او هم داسی (لکه چې وحی مو کړی وه نورو انبیاؤ ته) وحی راولیږلی مونږ تاته (ای محمده!) روح (قرآن، پرښته) په امر حکم خپل سره،

**تفسیر :** محقق شیخ الهند رحمة الله علیه په دغه ځای کښې له روح څخه مراد پرښته اخیستی ده یعنی جبرائیل الامین او دغه د ځینو مفسرینو رأیه ده. لیکن ظاهر دا دی چې دلته پخپله قرآن کریم به ئی په روح سره تعبیر فرمایلی وی ځکه چې د پاک قرآن له تاثیره مړه زړونه ژوندی کیږی، او انسان ته ابدی حیات ور په برخه کیږی. وګورئ! هغه اقوام چې د کفر، ظلم، طغیان او بد اخلاقی په موت سره مړه شوی وو عظیم‌الشان قرآن په دوی کښې په څه شان نوی روح او ځان واچوه.

مَا كُنتَ تَدْرِي مَا الْكِتَابُ وَلَا الْإِيمَانُ

نه وی ته چې پوهیدی به چې څه دی کتاب او نه (پوهیدی په دی چې څه

شي دی شرایع او) ایمان.

**تفسیر** : یعنی ایمان او د ایمانیه ؤ اعمالو دغه تفاصیل چې د وحی په ذریعه اوس معلوم شوی دی پخوا له دی نه چیری معلوم وو. اګر که په نفس‌الایمان سره تل تر تله متصف وو.

وَلٰكِنْ جَعَلْنٰهُ نُوْرًا نَّهْدِيْ بِهٖ مَنْ نَّشَآءُ مِنْ عِبَادِنَا ۚ

ولیکن ګرځولی دی مونږ دغه (روح کتاب، ایمان) داسي یوه رڼا چې سمه لیاره ښیو په هغه سره هغه چاته چې اراده وفرمایو مونږ له بندګانو خپلو،

**تفسیر** : د پاک قرآن په رڼا کښې د هر هغو بندګانو په نسبت چې مونږ اراده وکړو نو هغوی د سعادت او فلاح پر لیاری بیایو.

وَاِنَّكَ لَتَهْدِيْۤ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۙ﴿۵۲﴾

او بیشکه ته خامخا ښودل کوی (خلقو ته) په طرف د لیاری مستقیمی برابری.

**تفسیر** : یعنی تاسی خو تولو بندګانو ته د پاک قرآن په ذریعه تر الله تعالیٰ پوری د رسیدلو سمه صافه لیاره ورښیئ اعم له دی چه څوک پر هغی لاړ شي که لاړ نشي.

صِرَاطِ اللّٰهِ الَّذِيْ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ

سمی لیاری د هغه الله ته چې خاص ده لره دی هر هغه شیان چې په آسمانونو کښې دی (له علویاتو) او هر هغه شیان چې په ځمکه کښې دی (له سفلیاتو سره له اسمانونو او ځمکی خلقاً ملکاً عبیداً)،

**تفسیر** : یعنی سمه صافه لیاره هغه ده چې پر هغی باندی له تللو څخه انسان تر واحد الله تعالیٰ پوری ورسیدی شي هر څوک چې له دی لیاری څخه بی لیاری شي نو هغه له الله تعالیٰ څخنی بیل پاتی کیږی.

اَلَآ اِلَى اللّٰهِ تَصِيْرُ الْاُمُوْرُ ﴿۵۳﴾ ع

واوره ! خبردار اوسه! خاص الله ته بيرته گرځي تول كارونه (د مخلوقاتو په قيامت كښي).

**تفسير :** يعني كله چي د گردو (تولو) كارونو انجام د هغه په طرف دی نو ښائی چی انسان له شروع څخه د عاقبت په فكر او ذكر كښي اوسی او پخپل اختيار سره پر داسی يوی لياری لاړ شی چی هغه سم ورورسيږی. اللهم اهدنا الصراط المستقيم وثبتنا عليه.

**تمت سورة الشورىٰ بعون الله وتوفيقه فله الحمد والمنة**

سورة الزخرف مكية الا آية (٥٤) فمدنية وهی تسع و ثمانون آية وسبع ركوعات
رقم تلاوتها (٤٣) تسلسلها حسب النزول (٦٣) نزلت بعد الشورىٰ

د «الزخرف» سورت مكی دی پرته (علاوه) له (٥٤) آيته څخه چی مدنی دی (٨٩) آيت او (٧) ركوع لری
په تلاوت كښي (٤٣) او په نزول كښي (٦٣) سورت دی وروسته له «الشورىٰ» څخه نازل شوی دی.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ○

شروع كوم په نامه د الله چه ډير زيات مهربان پوره رحم لرونكی دی

حٰمٓ ۞١ وَالۡكِتٰبِ الۡمُبِيۡنِ ۞٢ اِنَّا جَعَلۡنٰهُ قُرۡءٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُوۡنَ ۞٣

قسم دی په دغه كتاب روښان بيانونكی چی بيشكه مونږ گرځولی مو دی دغه (كتاب) قرآن په عربی ژبه دپاره د دی چی تاسی پری وپوهيږئ (عقل په كښي وچلوئ).

**تفسير :** ځكه چی عربی ژبه ستاسی مورنی ژبه ده. او ستاسی په ذريعه به د دنيا نور اقوام هم دغه كتاب زده كوی او پری پوهيږی به.

وَاِنَّهٗ فِیۡۤ اُمِّ الۡكِتٰبِ لَدَيۡنَا لَعَلِیٌّ حَكِيۡمٌ ۞٤

او بیشکه دغه کتاب (ثابت دی) په اصل د کتاب (لوح محفوظ) کښې په نزد زموږ خامخا خاوند د لوئی مرتبې ډیر مستحکم دی.

**تفسیر :** یعنی دغه پاک قرآن د اعجاز پر وجوه او پر عظیمو اسرارو د اشتمال له وجې نهایت لوړه مرتبه لري او له تبدیل او تحریف څخنې د محفوظیت او مصؤنیت له سببه نهایت مستحکم دی. د ده دلائل او براهین نهایت مضبوط او د ده احکام نافذ او غیر منسوخ دی. هیڅ یو حکم ئې له حکمته تش نه دی او د ده تول مضامین د معاش او معاد پر ډیرو اعلیٰ هدایاتو مشتمل، او له حکمت او مصالحو څخه مملو دی. او د قرآن پر دغو ګردو (تولو) محاسنو پخپله هم دغه قرآن شاهد دی د لمر دلیل پخپله دی لمر.

**تنبیه :** قرآن او نور سماویه کتابونه پخوا له نزوله په لوح محفوظ کښې لیکلی شوی دی.

أَفَنَضْرِبُ عَنكُمُ الذِّكْرَ صَفْحًا أَن كُنتُمْ قَوْمًا مُّسْرِفِينَ ۝

آیا پس بند کړو (وګرځوو) له تاسی دغه ذکر پند (قرآن) بندیدل (ګرځیدل) له دی سببه چې یئ تاسی یو قوم مسرف له حده تیریدونکی (مشرکان چې پرې نه راوړئ ایمان).

**تفسیر :** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «له دی سببه چې تاسی حکم نه منئ نو آیا موږ به د حکم لیږل موقوف کړو؟» یعنی دغسی توقع له سره مه کوئ! د الله تعالیٰ حکمت او رحمت د دی خبری مقتضی دی چې سره د دغو زیاداتو، تجاوزاتو او شرارتونو چې ستاسی له خوا کیږی د الله تعالیٰ د کتاب نزول او د تبلیغ دعوت، نصیحت او د پند سلسله ونه ترله شی، څکه چې ډیر نور سعید ارواح له هغه څخه مستفید کیږی او پر منکرانو به په کامل طور سره د حجت اتمام کیږی.

وَكَمْ أَرْسَلْنَا مِن نَّبِيٍّ فِي الْأَوَّلِينَ ۝ وَمَا يَأْتِيهِم مِّن نَّبِيٍّ إِلَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ۝

او څومره ډیر مو لیږلی دی له انبیاؤ څخه په پخوانیو (خلقو کښې) او نه به راته دوی ته هیڅ نبی مګر وو به هغوی چې په هغه (نبی) پوری به ئې مسخری کولی.

**تفسير** : يعنى له پخوانيو انبياؤ سره هم داسى استهزاء كړى شوى وه او د هغو تعليماتو ته د دروغو نسبت كړى شوى وو مګر د دغى استهزاء او تكذيب له وجى د نبوت سلسله ونه تړله شوه.

فَأَهْلَكْنَآ أَشَدَّ مِنْهُم بَطْشًا وَمَضَىٰ مَثَلُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٨﴾

پس هلاک كړل مونږ هغه (پخوانى خلق چى) سخت تر (ؤ) له دوى نه له جهته د قوت او تير شوى دى (ځو ځايه په قرآن كښى) مثل صفت د ړومبنو خلقو (چى اهلاک او تعذيب وو).

**تفسير** : يعنى د عبرت دپاره د هغو مكذبينو د تباهى او هلاک مثالونه وړاندى كړى شوى او پخوا له دى نه مذكور شوى دى چى په زور او په قوت كښى له تاسى څخه ډير زيات وو كله چى هغوى د الله تعالىٰ له عذابه نجات ونه موند نو تاسى په څه شى مغرور يئ؟ وروسته له دى نه د الله تعالىٰ هغه د عظمت او قدرت او د تصرف د كمال ذكر راځى چى تر يوى اندازى پورى د دوى په نزد هم منلى شوى او مسلم وو.

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ خَلَقَهُنَّ ٱلْعَزِيزُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٩﴾ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ مَهْدًا وَجَعَلَ لَكُمْ فِيهَا سُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٠﴾

او قسم دى خامخا كه چيرى پوښتنه وكړى ته له دغو كفارو چى څوک دى هغه ذات چى پيدا كړى ئى دى آسمانونه او ځمكه؟ نو خامخا وبه وائى دغه كفار هرومرو (خامخا) چى پيدا كړى دى (تول هغه الله چى) ښه غالب قوى دى (په انفاذ د احكامو) ښه عالم دى (فرمائى الله) هغه (ذات) چى ګرځولى ئى ده تاسى ته ځمكه فرش (ځاى د قرار) او ګرځولى دى تاسى ته په دغى ځمكى كښى لياری دپاره د دى چى تاسى سمه لياره ومومئ (مقاصدو خپلو ته).

**تفسير** : يعنى تر هغه ځايه پورى چى انسان هلته هستوګنه كوى او يو له بل سره ګورى او تګ راتګ كوى او پخپلو منځونو كښى سره لياری لرى او په دغه تللو راتللو سره په دنيوى او

آخروی مقاصدو کښې د برې او کامیابۍ لیارې ځان ته معلومې کړي.

وَالَّذِي نَزَّلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً بِقَدَرٍ

او هغه (ذات) چې نازلې کړې ئې دي له (طرفه) د آسمانه اوبه په اندازه سره.

**تفسیر :** یعنې په یوه مخصوص مقدار چې د ده له حکمت سره مناسب او د ده په علم کښې مقدر وو.

فَأَنشَرْنَا بِهِ بَلْدَةً مَّيْتًا كَذَٰلِكَ تُخْرَجُونَ ﴿١١﴾

پس ژوندۍ کړې دي مونږ په دغو اوبو سره کلې مړه (وچې کلکه ځمکه) په شان (د دغه ژوندي کیدلو د ځمکې) راوبه ایستل شئ تاسې (هم بیا ژوندي له قبورو).

**تفسیر :** یعنې څرنګه چې په وچې کلکې مړې ځمکې کښې د باران د اوبو په وسیله نوې ژوندون او حیات پیدا او تکه شنه ودانه او زرغونه کوي ئې هم داسې په مړو اجسامو کښې هم روح غورځوي او بیا مو له مقابرو څخه ژوندي راپاڅوي.

وَالَّذِي خَلَقَ الْأَزْوَاجَ كُلَّهَا

او هغه (ذات) چې پیدا کړې ئې دي اصناف (او انواع د مخلوقاتو) تول د دوی .

**تفسیر :** یعنې په دنیا کښې د هومره اشیاوو جوړې چې دي او د مخلوقاتو هومره اقسام او متماثل یا متقابل انواع چې دي د هغو ګردو (تولو) خالق الله تعالیٰ دی.

وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ الْفُلْكِ وَالْأَنْعَامِ مَا تَرْكَبُونَ ﴿١٢﴾ لِتَسْتَوُوا عَلَىٰ ظُهُورِهِ

او ګرځولي ئې دي تاسې ته له بیړیو (جهازونو) او له چارپایانو هغه چه سوریږئ تاسې پرې (په لونده او وچې کښې) دپاره د دې چې سم برابر کینئ تاسې پر شاوو (د هر یوه) د هغه.

**تفسير :** يعني په بر (وچه) کښي د ځينو چارپايانو (څلوربولو) پر شاوو او په بحر (سيند) او فضاء او نورو کښي د بيړۍ او جهازونو او طيارو او نورو مراکبو پر شاوو سوريږئ.

ثُمَّ تَذْكُرُوا نِعْمَةَ رَبِّكُمْ إِذَا اسْتَوَيْتُمْ عَلَيْهِ وَتَقُولُوا سُبْحٰنَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ ﴿۱۳﴾

بيا ياد کړئ (قلباً) تاسي نعمت د رب خپل کله چي برابر کينئ (سواره شئ) پر هغه او وواييئ تاسي پاکي ده هغه (لوی ذات) ته چي مسخر کړی ئی دی مونږ ته دغه (مذکور له مراکبو) او نه وو مونږ ده لره په ضبط (او قيد) کښي راوستونکی (په وس خپل سره)

**تفسير :** يعني پر حيواناتو يا کشتی او جهازونو او نورو نقليه ؤ وسايلو باندی د سوريدلو په وخت کښي د الله تعالیٰ د هغه انعام او احسان يادونه پخپلو زړونو کښي وکړئ چي الله تعالیٰ مونږ ته دومره عقل، پوه، تدبير، قوت او قدرت او نور رابښلی دی چي پخپل عقل او تدبير او نورو سره دغه شيان مونږ تر خپلی اداری لاندی راوستلی دی دغه محض د الله تعالیٰ فضل او احسان دی، که نه په مونږ کښي دومره قدرت، او طاقت کوم دی چه داسي شيان مو قابو کړی وی لازم دی چي په ژبه سره هم پر نقليه ؤ وسايلو د سوريدلو په وخت کښي دغه الفاظ وواييئ ﴿سُبْحٰنَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ وَإِنَّا إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ﴾ نور اذکار او ادعيه هم په احاديثو کښي راغلی دی. چي د حديث او تفسير په کتابونو کښي مذکور دی.

وَإِنَّا إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ ﴿۱۴﴾

او بيشکه چي مونږ رب خپل ته خامخا بيرته ورتلونکی يو (په سورلی د جنازو).

**تفسير :** يعني د دغو سفرونو په تقريب د آخرت د سفر په يادونه کښي ولويږئ. رسول الله صلی الله تعالیٰ عليه وعلیٰ آله وصحبه وسلم خو د سوريدلو په وخت هم دغه تسبيح فرمايله.

وَجَعَلُوا لَهُ مِنْ عِبَادِهِ جُزْءًا إِنَّ الْإِنْسَانَ لَكَفُورٌ مُبِينٌ ﴿۱۵﴾

أَمِ اتَّخَذَ مِمَّا يَخْلُقُ بَنَٰتٍ وَأَصْفَىٰكُم بِٱلْبَنِينَ ﴿١٦﴾

او ګرځوي (مقرروي كفار) الله ته له بندګانو د ده يوه برخه (اولاد چې ملائكو ته د الله لونړه وائي)، بېشكه چې (كافر) انسان خامخا ناشكره دی ښكاره. آيا وايئ تاسي چې (الله) نيولي دي له هغه مخلوقه چې پيدا كوي ئې لونړي (چې اخس او ادنیٰ دي) او غوره كړي ئې يئ تاسي په زامنو (چې اشرف او اعلیٰ دي له لونړو نه)

**تفسير :** يعني لازم خو داسي ؤ چې د الله تعالیٰ نعمتونه به ئې پيژندلي او د هغو شكريه به ئې اداء كړي وه دوی صريحي ناشكري ته اوښتي دي او د الله تعالیٰ دربار ته سپين سترګي او ګستاخي كوي له دي نه لويه ګستاخي او ناشكري به څه وي چې د هغه دپاره د اولاد تجويز وكړي شي او هغه هم له بندګانو څخه او هغه هم لونړي. اول اولاد د مور او پلار د وجود يو جزء وي نو قدوس الله ته د اولاد د تجويز كولو معنی دا ده چې ګواكي دی له اجزاوو څخه مركب دی او د مركب حدوث ضروري دی دوهم په ولد او والد كښي ښائي چې مجانست وي كه دواړه له يوه جنسه نه وي نو د ولد يا والد په حق كښي عيب دی. دلته د خالق او مخلوق په منځ كښي د مجانست تصور هم نشي كيدی. دريم جوني د جسميه وو او عقليه وو قواوو په اعتبار د هلكانو په نسبت عموماً ناقصي او كمزوري وي ګواكي معاذ الله كه الله تعالیٰ د خپل ځان دپاره اولاد هم اختيار كړي وی هغه هم تيټ او ناقص. آيا تاسي ته شرم نه درځي چې پخپلو برخو او حصو كښي عمده او اعلیٰ شيان او د الله تعالیٰ په حصه كښي ناقص او تيټ شيان راوباسي. او مقررويئ ئې.

وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِمَا ضَرَبَ لِلرَّحْمَٰنِ مَثَلًا ظَلَّ وَجْهُهُۥ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ ﴿١٧﴾

حال دا هر كله چې زيري وركړ شي يو د دوی ته په (تولد د) هغه سره چې ګرځولي ئې دي رحمٰن ته مثل (او شبيه نو) وګرځي مخ د ده تك تور (له ډيره غمه) حال دا چې دی به ډك وي له غمه.

**تفسير :** يعني هغه اناثيه اولاد چې د الله تعالیٰ دپاره دوی تجويز كړي دي هغه د دوی په زعم كښي داسي عيب دار او ذليل او حقير دي چې كه پخپله دوی ته د هغه د تولد زيري وركړ شي

نو له ډیر رنځ او خفګانه د دوی مخ تک تور اوړی او وضعیت ئی سخت تغیر مومی او پخپل زړه کښی سخت پیچونه او تاوونه خوری. د دی پوره تقریر د «صافات» د سورت په آخری رکوع کښی پخوا له دی لیکلی شوی دی.

أَوَمَن يُنَشَّؤُا فِي الْحِلْيَةِ وَهُوَ فِي الْخِصَامِ غَيْرُ مُبِينٍ ⑱

آیا (مقرروی دوی الله ته) هغه څوک چی لویولی شی په ګانو (کالیو) کښی حال دا چی هغه په وخت د جګړو کښی نشی ښکاره کولی (بیانولی مطلب خپل).

**تفسیر :** آیا الله تعالیٰ خپل اولادیت ته جونی غوره کړی دی؟ چی عادتاً په دول او سینګار سره نشو او نما مومی د ګانو او زیورو په شوق کښی مستغرقی اوسی چی د دوی د رایی او عقل پر ضعف باندی دلیل دی او دوی د فکریه قوت له ضعفه د مباحثی په وخت کښی بیانیه قوت هم ونه لری لکه د ښځو په تقریرونو کښی که څوک لږ څه غور وکړی نو ګوری به چی دوی نه خپله دعوی په کافی بیان سره ثابتولی شی او نه د نورو دعاوی ماتولی شی او تل ناقصی او ناتمامی خبری کوی او نوری داسی فضولی او چټی (بیکاره) خبری له هغی سره ګډوی چی له هغه موضوع سره به بیخی څه علاقه او تناسب نه لری چی په دغه سره هم د مقصود په تبیین کښی احتیاج زیات وی او په دغه سره د دوی عجز لا څرګندیږی (ښکاره کیږی) پس هر طویل کلام په هم دغه حکم کښی راځی او د معمولی جملی او عادی خبری اداء کول، لکه راځه! څه! دا شی راکړه! هغه واخله، هغه راغلی وو، دی تللی وو، د بیانیه قوت دلیل نه دی.

وَجَعَلُوا الْمَلَائِكَةَ الَّذِينَ هُمْ عِبَادُ الرَّحْمَٰنِ إِنَاثًا

او ګرځوی (کفار) پرښتی هغه چی دوی عبادالرحمٰن د الله بندګان دی ښځی (لونی د الله)،

**تفسیر :** یعنی دغه د دغو مشرکانو یو بل دروغ دی چی پرښتی د ښځو په وصف کښی داخلوی، حال دا چی پرښتی نه د ښځو او نه د نارینه وو له جنسه دی بلکه دوی د الله تعالیٰ یو بیل علیٰحده مخلوق دی.

أَشَهِدُوا خَلْقَهُمْ سَتُكْتَبُ شَهَادَتُهُمْ وَيُسْأَلُونَ ⑲

آیا حاضر وو (دغه کفار په وخت د) پیدا کیدلو د دغو پرښتو کښی (چی ښځی لونه پیدا شوی دی) ژر ده چه وبه لیکلی شی شاهدی د دوی او پښتنه به هم تری وکړه شی (په آخرت کښی).

**تفسیر** : یعنی کوم یو عقلی یا نقلی دلیل خو له دوی سره د دغی دعوی د اثبات دپاره نشته. نو آیا دوی په هغه وخت کښی چی الله تعالیٰ پرښتی پیدا کولی ورته ولاړ وو؟ او دوی پخپلو سترګو پرښتی لیدلی دی چی پرښتی نارینه نه دی ښځی دی؟ ښه دی د دوی دغه شهادت د اعمالو په دفتر کښی لیکلی کیږی څه مهال (وخت) چی دوی به د الله تعالیٰ د عدل او انصاف په دربار کښی وړاندی کیږی نو هلته به د دی موضوع په نسبت هم له دوی نه پوښتنی کیږی چی تاسی ولی داسی خبری کولی او له کومه تاسی ته دا معلومات په لاس درغلی و؟.

وَقَالُوا لَوْ شَاءَ الرَّحْمَٰنُ مَا عَبَدْنَاهُم ۗ

او وائی (دغه مشرکان) که اراده فرمائلی وی رحمٰن نو عبادت به مو نه وی کړی د دغو (باطلو معبودانو).

**تفسیر** : یعنی دوی د خپلو دغو د شرک، بی ادبی او ګستاخی په جواز او استحسان کښی یو داسی عقلی دلیل هم وړاندی کوی چی که الله تعالیٰ اراده کړی وی نو مونږ ته به ئی موقع نه راکوله چی له ماسواء الله څخه به مو د نورو شیانو عبادت کاوه، او هرومرو (خامخا) به ئی زمونږ مخه نیوه. کله چی مونږ برابر پر خپل هم دغه دود (رواج) او دستو دوام کوو چی هغه ئی ګوری نو ثابت شو چی دغه کار بهتر او د ده خوښ دی. نو الله جل وعلا شانه واکرم واعظم برهانه د مشرکانو د دغی وینا تردید داسی فرمائی

مَّا لَهُم بِذَٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۖ إِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ ﴿٢٠﴾

نشته دوی ته په دغی (وینا خپلی) هیڅ قدر علم پوه نه دی دوی مګر دروغ وائی (خوشی چتی (بیکاره) اټکلونه چلوی ځکه چی الله راضی نه دی په کفر).

**تفسیر** : یعنی دغه خبره خو رښتیا ده چی بی د الله تعالیٰ له ارادی څخه هیڅ شی نشی کیدی لیکن د کوم شی ښیګڼه (فائده) او بهتری زمونږ دپاره له دی نه نه ثابتیږی. او که داسی وی نو په دنیا کښی به هیڅ کار بیکاره او هیڅ شی خراب او بد نه پاتی کیده او په ګرد

(تول) جهان کښې به محض خیر وه او بس او د شر تخم به له سره نه پیدا کیده او هر یو دروغجن ظالم او مکار به هم داسې وائې که د الله تعالیٰ اراده نه وی نو زه به ئې نه پرې ښودم چې داسې ظلم او تیری به مې کاوه او کله ئې چې ماته د ظلم، ستم او تیری موقع راکړه نو معلومه شوه چې دی په دغه کار خوښ او راضي دی. په هر حال په مشیت او رضاء کښې د لزوم ثابتول کوم علمي اصول نه دی او محض د گمان او اټکل غشي دی چې د هغه بیان د جزء ۸ «الانعام» د سورت په (۱۸) رکوع ۱۴۸ آیت کښې د دغه آیت په تفسیر کښې پخوا لیکلی شوی دی ﴿ سَيَقُولُ الَّذِينَ أَشْرَكُوا لَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا أَشْرَكْنَا ﴾

أَمْ آتَيْنَاهُمْ كِتَابًا مِّن قَبْلِهِ فَهُم بِهِ مُسْتَمْسِكُونَ ﴿٢١﴾ بَلْ قَالُوا
إِنَّا وَجَدْنَا آبَاءَنَا عَلَىٰ أُمَّةٍ وَإِنَّا عَلَىٰ آثَارِهِم مُّهْتَدُونَ ﴿٢٢﴾

آیا ورکړی مو دی دوی ته کوم کتاب پخوا له دغه (قرآن) پس دوی په هغه کتاب منګلی خښوونکی (حجت نیوونکی دی نه ده داسې) بلکه وائې دغه مشرکان بیشکه موند موندلی مو دی پلرونه خپل پر یوی لیاری (دین) او بیشکه موږ پر قدمونو د دوی لیاره موندونکی تلونکی یو (یعنی د هم هغو خپلو پخوانیو په پلونو ځو او د غیر الله عبادت کوو).

**تفسیر :** د عقلي دلیل حال خو مو واورید، آیا ما سواء له هغه څخه بل کوم نقلي دلیل پخپلې دغې دعوی باندې وړاندې کولی شي؟ یعنی د الله تعالیٰ له منزله وو کتابونو څخه کوم کتاب د دوی په لاس کښې شته؟ چې په هغه کښې د شرک غوره والي لیکلی شوی وی؟ ظاهر دی چې داسې کوم سند له دوی سره نشته. نو ماسواء له دی نه چې د خپلو پلرونو او نیکونو ړوند تقلید دلیل وړاندې کړی بل څه شی له دوی سره نه دی پاتې شوی، هم دغه د دوی له ګردو (تولو) څخه زبردست دلیل دی چې د هرې زمانې مشرکانو به هم دغه دلیل وړاندې کاوه چې وروسته له دی نه د هم دغه بیان دی.

وَكَذَٰلِكَ مَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ فِي قَرْيَةٍ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ
مُتْرَفُوهَا إِنَّا وَجَدْنَا آبَاءَنَا عَلَىٰ أُمَّةٍ وَإِنَّا عَلَىٰ آثَارِهِم
مُّقْتَدُونَ ﴿٢٣﴾ قَالَ أَوَلَوْ جِئْتُكُم بِأَهْدَىٰ مِمَّا وَجَدتُّمْ عَلَيْهِ آبَاءَكُمْ

او هم داسی (ستا په شان) نه وو لیږلی مونږ پخوا له تانه په هیڅ قریه کلی کوم ویرووںکی (له عذابه یعنی نبی) مګر وبه ویل هوسا (آرام) او نعمت لرونکیو (خلقو د هغو کلیو) بیشکه مونږ چی یو موندلی مو دی پلرونه خپل پر یوی لیاری او بیشکه مونږ پر قدمونو د دوی اقتداء کوونکی تلونکی یو. وبه ویل (نبی دوی لره) آیا (کوئ تاسی متابعت د پلرونو خپلو) اګر که راتله کړی دی ما تاسی ته په ښه لیاره ښوونکی له هغه شی څخه چی موندلی دی تاسی پر هغه شی باندی پلرونه خپل،

**تفسیر** : یعنی نبی الله فرمایلی دی چی ستاسی د پلرونو او د نیکه ګانو له لیاری څخه بهتره یوه ښه سمه صافه لیاره تاسی ته درښیم خو آیا تاسی سره له هغه د خپل هغه پخوانی جهل او عناد څخه مخ نه اړوئ؟.

قَالُوٓا۟ إِنَّا بِمَآ أُرْسِلْتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿٢٤﴾

وبه ویل دوی بیشکه مونږ چی یو په هغه (دین) چی لیږلی شوی یئ تاسی په هغه سره کافران یو.

**تفسیر** : یعنی هر څه چی وی مونږ ستاسی خبری نشو منلی، او له خپل هغه پخوانی دود (رواج) او دستور څخه چی له پلرونو او نیکه ګانو څخه راته پاتی شوی دی نشو ګرځیدی.

فَٱنتَقَمْنَا مِنْهُمْ ۖ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُكَذِّبِينَ ﴿٢٥﴾ وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِيمُ
لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِۦٓ إِنَّنِى بَرَآءٌ مِّمَّا تَعْبُدُونَ ﴿٢٦﴾ إِلَّا ٱلَّذِى فَطَرَنِى فَإِنَّهُۥ سَيَهْدِينِ ﴿٢٧﴾

پس انتقام مو واخیست له دوی نه پس وګوره چی څرنګه وه عاقبت آخره خاتمه د دروغجن ګڼونکیو (انبیاؤ خپلو ته) او (یاد کړه) هغه وخت چی وویل ابراهیم (کله چی ووت له غاره) پلار خپل (آزر) ته او قوم خپل (نمرودیانو) ته چی بیشکه زه بیزاره (جلا (جدا)) یم له هغو بتانو چی تاسی ئی عبادت کوئ مګر هغه الله چی پیدا کړی ئی یم زه پس بیشکه چی هغه (الله) به ثابت لری ما په هدایت (او دین خپل) باندی.

**تفسير :** يعني صرف له يوه پاک الله سره زما علاقه ده چې هغه زما خالق دی او هم هغه مې د مقصود د منزل پر لياره تر آخره پوری بيائی.

**تنبيه :** دلته ئې دغه قصه پر دې بيان فرمايلې ده چې وګورئ ستاسې مسلم پلار او پيشوا کله چې د خپلو پلرونو لياره غلطه وموندله هغه ئې پريښوده تاسې هم هغسې وکړئ! که مو د خپلو پلرونو او نيکونو تقليد پسې سا خيژی او له سره له هغه څخه خلاف بل کار نه کوئ نو د هغه پلار پر لياره تګ وکړئ چې په دنيا کښې ئې د حق او صداقت بيرغ هسک (اوچت) کړی ؤ، خپلې اولادې ته ئې نصيحت او وصيت فرمايلی ؤ چې وروسته له ما څخه هم ما سواء له واحد احد الله د بل هيڅ شي عبادت مه کوئ! کما جاء فی الرکوع (١٦) آيت ١٣٢ من سورة البقرة ﴿ وَوَصَّىٰ بِهَآ إِبۡرَٰهِـۧمُ بَنِيهِ وَيَعۡقُوبُ ﴾ الآية -

---

وَجَعَلَهَا كَلِمَةَۢ بَاقِيَةٗ فِي عَقِبِهِۦ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ﴿٢٨﴾

---

او ګرځولې وه (ابراهيم) دغه کلمه (د توحيد) باقي پاتې کيدونکې په پشت اولاد خپل کښې دپاره د دې چې دوی بيرته راوګرځي (توحيد ته له شرکه).

---

**تفسير :** يعني د ابراهيم عليه السلام اولاده يو له بل څخه د توحيد بيان او دلائل واوری او د حق د لياری په طرف دې رجوع وکړی.

---

بَلۡ مَتَّعۡتُ هَٰٓؤُلَآءِ وَءَابَآءَهُمۡ حَتَّىٰ جَآءَهُمُ ٱلۡحَقُّ وَرَسُولٞ مُّبِينٞ ﴿٢٩﴾

---

(دوی هم هغسې ونه کړ) بلکه نفعه ورکړی وه ما دغو (شرکاؤ) ته او پلرونو د دوی ته تر هغه پورې چې راغی دوی ته حق (دين قرآن) او رسول (محمد) ښکاره بيانونکی (د شرعيموو احکامو دوی لره).

---

**تفسير :** يعني ای مکيانو! افسوس چې تاسې د ابراهيم عليه السلام ارث مو حاصل نه کړ او د ده پر وصيت مو تګ ونه کړ، بلکه د هغو دنيوی سامانونو په خوندونو او مزو کښې ولويدئ چې د الله تعالیٰ له درباره تاسې ته درعنايت کړی شوی دی او د قدوس الله له طرفه بيخي غافل شوئ تر دې چې د هغه غفلت د خوب د ويښيدلو لپاره الله تعالیٰ تاسې ته خپل داسې انبياء وليږل چې د هغوی نبوت بيخي روښان او واضح دی. الله حق او رښتيا دين تاسې ته درولیږه قرآن ئې تاسې ته در ولولوه او در واموورواوه، او د الله تعالیٰ په احکامو په نهايت صفائی سره مو مطلع کړئ.

وَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ قَالُوْا هٰذَا سِحْرٌ وَّاِنَّا بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿۳۰﴾

او څه وخت چې راغي دوی ته حق (دين قرآن) وويل (كفارو) دا سحر (كوډی) دی او بيشكه مونږ پر دغه قرآن كافران يو (او نه ئی منو).

**تفسير** : يعنی پاک قرآن ته ئی د جادو او كوډو نسبت وكړ، او د انبياء الله د كلام له منلو څخه منكران شول.

وَقَالُوْا لَوْلَا نُزِّلَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ عَلٰی رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيْمٍ ﴿۳۱﴾

او وويل (كفارو) ولی نه نازلوه شی دغه قرآن پر يوه سړی له دغو دوو قريو څخه (چې مكه او طائف دی چې دغه سړی هم) ډير لوی دی (لكه وليد په مكه كښې او عروه په طائف كښې).

**تفسير** : يعنی كه خامخا د قرآن نزول د پاک الله مقصود وو نو ښائی چې هغه ئی د معظمی مكی يا د طائف پر كوم مشر نازلوه. دغه څرنگه د باور كولو وړ (لائق) دی چې لوی لوی غتان، مشران او د مالونو د شتو له خاوندانو څخه پاک الله منصرف شوی دی او د رسالت د لوی منصب لپاره ئی داسی يو سړی غوره او منتخب فرمايلی دی چې د دولت او رياست په اعتبار د هيڅ يو امتياز خاوند نه دی.

نو پاک الله جل وعلا شانه واعظم واكرم برهانه جواباً د دوی په ترديد كښې داسی فرمائی

اَهُمْ يَقْسِمُوْنَ رَحْمَتَ رَبِّكَ ؕ

آيا دوی تقسيموی ويشی رحمت (نبوت) د رب ستا (لكه چې دوی وائی)،

**تفسير** : يعنی آيا د نبوت او د رسالت د مناصبو تقسيم ستاسی په لاس كښې دركړی شوی دی چې د هغه پر انتخاب داسی مباحثی كوئ؟.

نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُمْ مَّعِيْشَتَهُمْ فِی الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجٰتٍ لِّيَتَّخِذَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا سُخْرِيًّا ؕ

(نه ده داسی بلکه پخپله) مونږ ویشلی قسمت کړی مو دی په منځ د دوی کښی معیشت د دوی په دغه ژوندون لږ کښی او پورته کړی مو دی ځینی د دوی د پاسه د ځینو نورو په مرتبو کښی د دی چی ونیسی ځینی د دوی (چی غنیان دی) ځینی نور (چی فقیران دی) تابعان کار کوونکی

**تفسير :** یعنی ځینی ئی غنی او شتمن او ځینی ئی فقیران او خوار ګرځولی دی یوه ته ئی بی حسابه دولت ورکړی دی او بل ته ئی له هغه شخه لږ څوک ئی مسخر تابع او مطیع ګرځولی دی او څوک ئی متبوع او مطاع.

وَرَحْمَتُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ ﴿٣٢﴾

او رحمت د رب ستا (جنت) خیر ډیر غوره دی له هغو (اموالو) چی تولوی ئی دوی (په دنیا کښی).

**تفسير:** یعنی د نبوت او د رسالت شرف خو د ظاهری مال او جاه او د دنیوی ساز او سامان شخه ډیر اعلیٰ او اولیٰ دی، کله چی الله تعالیٰ دنیوی روزی د دوی په فکر او تجویز سره نه ده ویشلی نو د نبوت او رسالت تقسیم به ولی د دوی په تجویز سره سم وکړی وروسته له دی نه د مال او دولت او د مادی سامانونو د بی وقعتی او حقارت بیان فرمائی،

وَلَوْلَآ أَن يَكُونَ النَّاسُ أُمَّةً وَّاحِدَةً لَّجَعَلْنَا لِمَن يَكْفُرُ بِالرَّحْمَٰنِ لِبُيُوتِهِمْ سُقُفًا مِّن فِضَّةٍ وَّمَعَارِجَ عَلَيْهَا يَظْهَرُونَ ﴿٣٣﴾ وَلِبُيُوتِهِمْ أَبْوَابًا وَّسُرُرًا عَلَيْهَا يَتَّكِـُٔونَ ﴿٣٤﴾ وَزُخْرُفًا ط

او که نه وی دغه (خطره) چی شی دا خلق ډله یوه (متفق په کفر) نو خامخا ګرځولی به مو وو هغه چا لره چی کافر کیږی په رحمٰن دپاره د کوټو د دوی چتونه له سپینو زرو او زینه پائی (به می هم له سپینو زرو ور جوړولی څو په هغو سره) پر دغو (کوټو) به ختلی دوی (دپاره د حاجاتو خپلو) او دپاره د کوټو د دوی (د سپینو زرو) دروازی به وی او تختونه (به وو د سپینو زرو) چی پر هغو به ئی تکیی وهلی وی دوی او (له) سرو زرو

(نور د زينت شيان به مى هم ورلره وركړى ؤ)

**تفسير :** يعنى د الله تعالىٰ په نزد دغه دنيوى مال او دولت هيڅ قدر او اهميت نه لرى او نه د دنيوى مال اعطاء څه د قرب او د وجاهت عند الله دليل دى دا خو داسى بى قدره او حقير شى دى چى كه كوم خاص مصلحت مانع نه وى نو الله تعالىٰ د كفارو كوټو، چتونه، زينى، دروازى، درشائى، قلفونه، تختونه، چوكيگانى او نور اثاث البيت به ئى، گرد (تول) له سرو او سپينو زرو څخه جوړول مگر په دغه صورت كښى به خلقو د دغه وضعيت له ليدلو څخه چى كفارو ته دغسى اسباب او سامان ور په برخه كيږى عموماً د كفر لياره اختياروله (الا ماشاء الله) او دغه شى د الله تعالىٰ له مصلحته مخالف دى نو ځكه داسى ونه كره شوه. په حديث كښى راغلى دى چى كه د الله تعالىٰ په نزد د دنيا قدر د مياشى د يوه وزر په اندازه هم وى خو بيا هم كفارو ته به يو غړپ اوبه هم نه وركولى كيدى ښه كله چى يو شى د الله تعالىٰ په نزد دومره حقير وى نو هغه د سيادت او د وجاهت عند الله او د رسالت او نبوت معيار درول به تر كوم ځاى پورى صحيح وى. حضرت شاه صاحب ليكى «يعنى الله تعالىٰ كافر ئى پيدا كړ، چيرى خو هغه ته آرام وركړى، په آخرت كښى خو ورته دايمى عذاب دى. چيرى خو دوى ته آرام وررورسى. مگر كه داسى كيدى نو گردو (تولو) به د هم هغه كفر لياره غوره كوله.»

وَإِن كُلُّ ذَٰلِكَ لَمَّا مَتَٰعُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۚ وَٱلْـَٔاخِرَةُ عِندَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِينَ ﴿٣٥﴾

او نه دا تول (مذكوره شيان) مگر متاع نفعه د دغه ژوندون لږ خسيس، او (متاع نفعه د) آخرت (جنت) په نزد د رب ستا دپاره د متقيانو دى.

**تفسير :** يعنى دنيوى عيش او عشرت او خوند كښى خو گرد (تول) سره شريكان دى مگر آخرت سره له خپلو ابدى نعماوو او آلاوو د متقينو دپاره مخصوص دى چى متقيان له الله جل جلاله څخه ويريږى او ځان له معاصيو ساتى.

وَمَن يَعْشُ عَن ذِكْرِ ٱلرَّحْمَٰنِ نُقَيِّضْ لَهُۥ شَيْطَٰنًا فَهُوَ لَهُۥ قَرِينٌ ﴿٣٦﴾

او هر څوک چى اعراض كوى (سترگى پټوى) له ذكر يادولو (د قرآن) د رحمٰن مسلط به كړو مونږ پر هغه باندى يو شيطان پس هغه به له ده سره (دائمى) ملگرى وى (چى ئى لمسوى گناهونو ته او لغزوى ئى له سمى ليارى نه).

**تفسیر :** یعنی هر څوک چې له رښتیا نصیحت او د الله تعالیٰ له ذکره او یاده اعراض کوي او مخ ترې اړوي پر ده باندې یو شیطان په خصوصي ډول (طریقه) سره مسلطوه شي چې تل تر تله ئې اغواء کوي او د ده په زړه کښې راز راز (قسم قسم) وسوسې اچوي دغه شیطان به تر دوزخ پورې هم د ده له ملګرتوبه لاس نه اخلي.

وَإِنَّهُمْ لَيَصُدُّونَهُمْ عَنِ السَّبِيلِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُم مُّهْتَدُونَ ﴿٣٧﴾

او بیشکه دغه (شیطانان) خامخا اړوي دغه خپل ملګري له لیارې (د حق) او ګمان کوي (دغه سترګې پټوونکي کفار له حقه) داسې چې بیشکه دوی د سمې لیارې موندونکي دي.

**تفسیر :** یعنې شیاطین به تل د دوی مخه د نیکۍ له لیارې څخه نیسي، مګر د دوی عقلونه هم تر دې اندازې پورې مسخ کیږي چې هغه غلطه لیاره د دوی په نظر کښې سمه لیاره ښکاري او ښه ئې ګڼي. د بدۍ او د نیکۍ تمیز هم په دوی کښې نه پاتې کیږي.

حَتَّىٰ إِذَا جَاءَنَا قَالَ يَا لَيْتَ بَيْنِي وَبَيْنَكَ بُعْدَ الْمَشْرِقَيْنِ فَبِئْسَ الْقَرِينُ ﴿٣٨﴾

تر هغه پورې چې راشي مونږ ته نو وبه وائي (دغه اعراض کوونکي خپل ملګري ته) کاشکې چې وي په منځ زما او په منځ ستا کښې لرې والې له مشرقه تر مغربه پس بد ملګری (ئې ته زما).

**تفسیر :** یعنې هر کله چې د الله تعالیٰ په حضور کښې ورسیږي هلته به دغه خبره په ښه شان سره ورڅرګندیږي (ورښکاریږي) چې دغه ملګري ئې څومره بد او خراب ملګري وو هلته به له حسرته او قهره داسې وائي چې کاشکې زما او ستا په منځ کښې د مشرق او مغرب فاصله وی! او یوه شیبه به مې هم ستا په صحبت کښې نه وی تیره کړې.
ای کمبخته! اوس خو لږ شانې له ما څخه لرې شه!. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکي «یعنې په دنیا کښې د شیطان پر مشورو عمل کوي او هلته به د شیطان له ملګرتوبه افسوس او ارمان کوي. داسې شیطان رفیق چاته له پیریانو څخه او چا ته له انسانانو څخه وررسیږي.»
نو پاک الله اجل واعلیٰ شانه واکرم واعظم برهانه داسې فرمائي

وَلَن يَنفَعَكُمُ الْيَوْمَ إِذ ظَّلَمْتُمْ أَنَّكُمْ فِي الْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ ﴿٣٩﴾

او له سره به څه فائده ونه رسوی تاسی ته نن ورځ (له دی جهته) چی ظلم کړی دی تاسی (په شرک سره) دا چی بیشکه تاسی (سره له ملګرو خپلو) په عذاب کښی سره شریکان یئ (لکه چی په کفر کښی سره شریکان وئ)

**تفسیر:** د دنیا قاعده ده په کوم مصیبت کښی چی په عمومی ډول (طریقه) سره لوی او واړه ټول سره شریکان وی نو هغه لږ شانی سپک او آسان ورښکاری. مشهور متل دی چی «په ګډه مرګ کښی لویه چرچه وی» مګر په دوزخ کښی د ټولو شیاطین الانس والجن او د تابعینو او متبوعینو په اشتراک او ګډون کښی دوی ته هیڅ یوه فائده او ګټه نه وررسیږی، د عذاب شدت به دومره زیات وی چی په داسی سطحی خبرو له سره دوی نشی متسلی کیدی او دوی ته له هغه څخه څه تخفیف او سپکتیا نه محسوسیږی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «یعنی کفار به وائی چی د دوی له لاسه مونږ په دغه عذاب کښی اخته شوی یو ډیر ښه شو چی دوی هم له هغه څخه نجات ونه موند او تری بچ نشو. لیکن که هغه بل نیولی شوی دی نو د هغه له نیولو څخه ده ته څه فائده نه وررسیږی».

اَفَاَنْتَ تُسْمِعُ الصُّمَّ اَوْ تَهْدِی الْعُمْیَ وَمَنْ كَانَ فِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ﴿۴۰﴾ فَاِمَّا نَذْهَبَنَّ
بِكَ فَاِنَّا مِنْهُمْ مُّنْتَقِمُوْنَ ﴿۴۱﴾ اَوْ نُرِیَنَّكَ الَّذِیْ وَعَدْنٰهُمْ فَاِنَّا عَلَیْهِمْ مُّقْتَدِرُوْنَ ﴿۴۲﴾
فَاسْتَمْسِكْ بِالَّذِیْۤ اُوْحِیَ اِلَیْكَ ۚ اِنَّكَ عَلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ ﴿۴۳﴾

آیا پس ته به (ای محمده!) آورول وکړی کڼو ته یا سمه لیاره به وښیی ړندو ته او هغه چا ته چی وی په ګمراهی ښکاره کښی پس که بیول وکړو مونږ خامخا پتا سره (په خوا د تعذیب د منکرینو) پس بیشکه مونږ له دوی نه انتقام اخیستونکی یو (په آخرت کښی) یا به وښیو تاته (په حیات ستا کښی) هغه (عذاب) چی وعده ئی کوو له دوی سره پس بیشکه مونږ په (عذاب د) دوی قادر یو (په هر حال کښی) پس منګلی خښی کړه (ښه عمل وکړه) په هغه (قرآن) چی وحی کړی شوی دی تاته (ای محمده!) بیشکه ته پر لیاری سمی روان ئی (نو ژر به مطلب ته ورسیږی).

**تفسیر :** یعنی ړندو ته د حق لیاره ښوول، کڼو ته د حق غږ آورول، او هغو کسانو ته چی

په صریحی غلطی او گمراهی کښې سرگردانه حیرانه گرځی سمه صافه لیاره ښوول او د کفر، شرک، شک او عصیان له تیارو څخه ئې د باندی ایستل او د هدایت پر لوی سرک ئې روانول، ستاسی په واک (قبضه) او اختیار کښې نشته که الله تعالیٰ اراده وفرمائی نو ستا په غږ کښې تأثیر پیدا کوی. په هر حال تاسی داسی غم او اندیښنه مه کوئ چې دغه گرد (تول) خلق ولی حق نه منې؟ او ولی خپله آخره خاتمه خرابوی؟ د دوی معامله پاک الله ته وسپارئ! هم هغه به دوی ته د دوی د دغو اعمالو سزا ورکوی، که د دوی دغه په سزا رسول ستاسی له وفاته وروسته واقع شو نو هغه به هم تاسی ته درښوول کیږی په هر صورت نه دوی زمونږ له واکه او اختیاره وتلی او نه چیری تللی شی، او نه به مونږ دوی بی له سزا ورکولو خوشی پریږدو. ستاسی کار هم دا دی کومه وحی چې راغلی ده او کوم حکم چې تاسی ته درکړی شوی دی پر هغه په ډیر مضبوطی سره تینگ ولاړ اوسئ! او برابره خپله فریضه اداء کوئ، ځکه که د دنیا نور خلق پر بلی لیاری لاړ شی نو ته د الله تعالیٰ په فضل او کرم سره پر سمه لیاره روان ئې چې له هغه ځنی یو قدم دی خوا یا هغی خوا ته د هیسته کیدلو ضرورت نه دی پاتی او نه د کوم هوا پرست په غوښتنه، هیله (امید) آرزو او تمنا ته کوم بل لوری ته کتلی او التفات کولی شی.

---

وَإِنَّهُۥ لَذِكْرٌ لَّكَ وَلِقَوْمِكَ ۖ

او بیشکه دغه (قرآن) ذکر پند (شرف عزت) دی تاته (ای محمده!) او قوم (امت) ستا ته.

---

**تفسیر :** یعنی لوی قرآن د تاسی او ستاسی د قوم دپاره د خاص فضل او شرف سبب دی. له دی نه به لوی عزت او ښه نصیب څه وی چې د الله تعالیٰ کلام، او د گردی (تولی) دنیا د نجات او د فلاح ابدی دستورالعمل د دوی په ژبه نازل شوی دی. او د داسی مقدس کلام ړومبنی مخاطبان هم دوی دی. که دوی څه عقل او پوه ولری نو د دغه عظمی نعمت قدر دی وکړی! او د لوی قرآن چې د دوی لپاره یو قیمتدار د پند او نصیحت کتاب دی پر هدایاتو دی تگ وکړی، او له نورو گردو (تولو) ځنی دی ړومبی خپل ځانونه د دنیوی او آخروی سعاداتو وړ (لائق) او مستحق وگرځوی.

---

وَسَوْفَ تُسْـَٔلُونَ ﴿٤٤﴾

او ژر ده چې پوښتنه به وکړه شی له تاسی (په ورځ د قیامت کښې).

---

**تفسیر :** یعنی مخ کښې به د دی خبری پوښتنه کیږی چې تاسی د دغه عظمی نعمت څه قدر

کری ؤ؟ او د دغه لوی فضل او شرف شکریه مو په څه شان سره اداء کری وه؟.

وَسْئَلْ مَنْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رُّسُلِنَآ أَجَعَلْنَا مِن دُونِ الرَّحْمَٰنِ آلِهَةً يُعْبَدُونَ ﴿٤٥﴾

او پوښتنه وکړه (ای محمده!) له هغه چا چی لیږلی مو دی پخوا له تا له رسولانو زمونږ (په شپه د معراج کښی یا له علماؤ د دوی) آیا مقرر کړی وو مونږ بی له رحمٰن نور معبودان چی عبادت به ئی کاوه.

**تفسیر :** یعنی ستاسی لیاره خو هم هغه ده چی د پخوانیو انبیاؤ لیاره وه هیڅ یوه نبی د شرک تعلیم نه دی ورکری. او نه الله تعالیٰ په هیڅ یوه دین کښی شرکیه اعمال جائز درولی دی چی ماسواء الله څخه د بل چا عبادت هم وکړی شی. او دغه ارشاد چی پوښتنه وکړه یعنی هر کله چی له دوی سره ملاقات وکړئ! لکه چی د معراج په شپه کښی وشو یا د دوی احوال له کتابونو څخه تحقیق وکړئ! په هر حال د تحقیق او تفتیش هومره ذرائع چی وی هغه گرد (تول) تر استعمال لاندی ونیسئ! له هغو څخه به په صاف ډول (طریقه) سره ثابتیږی چی په هیڅ سماوی دین کښی هیڅ کله د شرک اجازه نه ده ورکړی شوی.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِآيَاتِنَآ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِيْهِ فَقَالَ إِنِّي رَسُولُ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٤٦﴾ فَلَمَّا جَآءَهُم بِآيَاتِنَآ إِذَا هُم مِّنْهَا يَضْحَكُونَ ﴿٤٧﴾

او خامخا په تحقیق لیږلی وو مونږ موسیٰ سره له (نهو) دلائلو (د قدرت) زمونږ فرعون ته او مشرانو د دغه (فرعون) ته پس وویل (موسیٰ) بیشکه زه چی یم رسول د رب د عالمیانو یم پس کله چی راغی (موسیٰ) دوی ته سره له دلائلو (د قدرت) زمونږ ناڅاپه دوی په دغو دلائلو (د قدرت زمونږ) به ئی خندل.

**تفسیر :** یعنی پر معجزاتو ئی توکی مسخری کولی.

وَمَا نُرِيهِم مِّنْ آيَةٍ إِلَّا هِيَ أَكْبَرُ مِنْ أُخْتِهَا

او نه مو ښوده دوی ته (هیڅ دلیل) له دلائلو (د عذاب) مګر چې هغه لوی وه له خوره د دی (یعنی له هغه تیر عذابه)

**تفسیر :** یعنی له یوه څخه بل د قدرت لوی دلیل مو د موسیٰ علیه السلام د تصدیق لپاره وښوده.

وَاَخَذْنٰهُمْ بِالْعَذَابِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۴۸﴾

او نیولی وو مونږ دوی په عذاب سره دپاره د دی چې دوی راوګرځی (له کفره خپله).

**تفسیر :** بالاخره مو هغه دلائل ورولیږل چې د عذاب یو شان رنګ د هغو په منځ کښی مرکوز ؤ لکه چې د جزء ۹ «الاعراف» په (۱٦) رکوع ۱۳۳ آیت کښی مذکور دی ﴿ فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الطُّوْفَانَ وَالْجَرَادَ وَالْقُمَّلَ وَالضَّفَادِعَ وَالدَّمَ اٰيٰتٍ مُّفَصَّلٰتٍ ﴾ او له دی نه غرض دا وو څو دوی وویریږی او له خپلو هغو حرکاتو څخه مخ وګرځوی نو هغوی بیرته ونه ګرځیدل کله چې عذاب ئی ولید نو داسی فریاد ئی وکړ

وَقَالُوْا يٰٓاَيُّهَ السّٰحِرُ

او وویل (قبطیانو موسیٰ ته) ای ساحره!

**تفسیر :** د دوی په محاوراتو کښی عالم ته به ئی «ساحر» ویل، ځکه چې لوی علم د دوی په نزد هم دغه سحر وو. ښائی د دغه عجز، زاری، خوشامد او تملق په وخت، حضرت موسیٰ ئی په دغه ظاهری تعظیمی لقب سره بللی وی او له خپل باطنی خباثته ئی په دغه لوری هم اشاره کړی وی چې مونږ تر اوسه پوری تا د نبی په صفت نه پیژنو او تش دی د یوه ماهر کوډګر (ساحر) په حیثیت ګڼو.

ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ ۚ اِنَّنَا لَمُهْتَدُوْنَ ﴿۴۹﴾

وبوله زمونږ دپاره رب خپل په سبب د هغی وعدی (د الله) چې له تا څخه ده (چې له مونږ لری کړی عذاب) بیشکه چې مونږ خامخا لیاره موندونکی یو

(په ایمان راوړلو سره په تا باندی ای موسیٰ!).

**تفسیر :** یعنی د دعاء هغه طریقه چی تاته رب ستا ښوولی ده، او هغه عهد چی مونږ له تاسی سره کړی دی سم له هغه دعاء سره داسی وشو نو ضرور مونږ به هم پر سمه لیاره راځو او ستا خبرو ته به غوږ ږدو نو سمه صافه لیاره به بیامومو.

فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ إِذَا هُمْ يَنْكُثُونَ ﴿٥٠﴾

پس کله چی لری مو کړ له دوی نه عذاب (په دعاء د موسیٰ سره) ناڅاپه ماته کړه دوی (هغه وعده خپله)

**تفسیر :** یعنی څه مهال (وخت) چی هغه تکلیف مرتفع او د مصیبت ساعت له دوی نه پورته او مندفع شو یو ځلی تولو سره له خپلو هغو مواعید څخه مخ واړوه او داسی ئی ورښکاره کړل چی مونږ له سره تاسره څه عهد او پیمان نه وو کړی او فی الحال ئی بیا مات کړ.

وَنَادَىٰ فِرْعَوْنُ فِي قَوْمِهِ قَالَ يَا قَوْمِ أَلَيْسَ لِي مُلْكُ مِصْرَ
وَهَٰذِهِ الْأَنْهَارُ تَجْرِي مِنْ تَحْتِي ۖ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿٥١﴾

او غږ وکړ فرعون (افتخاراً) په قوم خپل کښی (د جارچیانو په وسیله) وویل (فرعون) ای قومه زما! آیا نشته ما لره ملک سلطنت د مصر او دغه ویالی چی بهیږی (او اصلی منبع ئی نیل دی) لاندی تر (مانی) زما آیا پس نه وینئ تاسی (دغه لوئی جاه او جلال زما).

**تفسیر :** په دغو اطرافو او حوالیو کښی د مصر حاکم ډیر لوی سری ګڼل کیده، او نهرونه ئی هم ده کینودلی وو، او د نیل اوبه ئی په هم دغو ویالو کښی غورځولی وی او خپل باغ ته ئی هم را ایستلی وی. مطلب دا چی سره د دغو سامانونو او وسائلو د موجودیت آیا زمونږ دغه حیثیت او وضعیت له دی خبری سره وړ (لائق) او متقاضی دی چی د موسیٰ علیه السلام په شان د یوه معمولی حیثیت والا خبرو ته غوږ ونیسو او غاړه ورته کیږدو.

أَمْ أَنَا خَيْرٌ مِنْ هَٰذَا الَّذِي هُوَ مَهِينٌ ۙ وَلَا يَكَادُ يُبِينُ ﴿٥٢﴾

بلکه زه بهتر یم له دغه سړی (موسیٰ) چې هغه سپک (او حقیر) دی. او نه دی نژدی (دی ته چې) صاف بیان (د مطلب) وکړی.

**تفسیر :** یعنی له موسیٰ سره نه څه مال او دولت شته او نه حکومت او نه عزت او نه کوم ظاهری کمال تر دی چې په خبرو او اترو کښې ئې ژبه هم په صاف ډول (طریقه) سره نه چلیږی او تته کیږی.

فَلَوْلَآ أُلْقِيَ عَلَيْهِ أَسْوِرَةٌ مِّن ذَهَبٍ أَوْ جَآءَ مَعَهُ الْمَلَٰٓئِكَةُ مُقْتَرِنِينَ ﴿٥٣﴾

پس ولی نه غورځول کیږی په ده باندی وښی له سرو زرو یا ولی نه دی راغلی له ده سره پرښتی پیوسته (صف تړلی).

**تفسیر :** وائی چې فرعون به پخپله د جواهراتو وښی پخپلو لاسو کښې اچول او پر هر وزیر او امیر او مشر به ئې چې لطف او مهربانی کوله د هغه په لاسو کښې به ئې هم سم د ده له حال سره مناسب وښی اچول د ده په مخ کښې د ده لاوو لښکر صف تړلی وو. مطلب ئې دا کله چې مونږ چاته عزت ورکوو نو دغسی وضعیت ورسره کوو، نو آیا کله چې دی د الله تعالیٰ د رسالت مدعی دی نو ولی د ده الله د ده په لاسو کښې وښی نه دی اچولی؟ او له ده سره ئې د ملائکو یو لښکر نه دی رالیږلی؟.

فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهُۥ فَأَطَاعُوهُ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَوْمًا فَٰسِقِينَ ﴿٥٤﴾

پس سپک بې عقل موند (فرعون) قوم خپل پس اطاعت ئې وکړه د هغه (فرعون په مطلب د ده کښې)، بیشکه چې دوی وو یو قوم فاسقان (نو وی مانه فرمان د فاسق).

**تفسیر :** یعنی په دغو چټیو (بیکارو) او غلطو تیرایستونکیو خبرو سره ئې له خپل تول قوم څخه ناپوهان جوړ کړی دی او هغه تول احمقان د ده خبرو ته غوږ ږدی حقیقت دا دی چې د دغو خلقو طبائع د الله تعالیٰ په نافرمانی له ابتداء څخه عادت او معتاد شوی وو دغه ئې اوس د هغه عصیان او طغیان دپاره یوه نوی حیله او پلمه (تدبیر) وګرځوله.

فَلَمَّآ ءَاسَفُونَا

پس کله چې خفه کړو (په غضب ئې کړو) دوی مونږه (په ډیر طغیان خپل سره)

تفسیر : یعنی هم هغسې کارونه ئې وکړل چې په هغو سره عادتاً پاک الله په قهر او غضب کیږی.

انتقمنا منهم فأغرقنهم اجمعین ﴿۵۵﴾ فجعلنهم سلفا ومثلا للاخرین ﴿۵۶﴾

نو انتقام واخیست مونږ له دوی نه پس غرق ډوب مو کړل دوی ټول (په بحیره د قلزم کښې) پس ومو ګرځول دوی پیشوایان (دپاره د عبرت اخیستلو) او مثل دپاره د وروستنیو (خلقو تر قیامت پورې).

تفسیر : یعنی وروسته راتلونکیو نورو نسلونو ته د دوی قصه د یوې عبرتناکې پیښې په شان ذکر او بیانیږی.

ولما ضرب ابن مریم مثلا اذا قومک منه یصدون ﴿۵۷﴾ وقالوا ءالهتنا خیر ام هو

او کله چې وګرځاوه شو ځوی د مریمې مثل ناڅاپه قوم ستا پر هغه (مثال) شور ماشور د خوشالتیا (او خندا) کوی او وائی (دغه کفار) آیا معبودان زمونږ غوره دی او که هغه غوره دی (هر کله چې عیسیٰ په دوزخ کښې شو خو زمونږ بتان دی هم په دوزخ کښې وی).

تفسیر : یعنی کله به چې د حضرت مسیح علیه السلام ذکر کیده نو د عربو مشرکانو به ډیر شور ماشور نښلاوه او راز راز (قسم قسم) غږونه به ئې پورته کول. په ځینو روایاتو کښې راغلی دی. څه مهال (وخت) چې رسول الله مبارک دغه آیت ولوست ﴿ انکم وما تعبدون من دون الله حصب جهنم ﴾ جزء ۱۷ (د انبیاء ۷ رکوع ۹۸ آیت زمونږ د دغه تفسیر کښې) نو مشرکانو وویل چې نصاریٰ د حضرت مسیح علیه السلام عبادت کوی اوس راوښیه چې ستاسې په خیال زمونږ معبودان ښه دی؟ که حضرت مسیح علیه السلام ظاهر دی چې تاسې حضرت مسیح ته ښه وایئ کله چې حضرت مسیح (معاذ الله) د دی آیت په عموم کښې داخل دی نو خیر دی زمونږ معبودان دی هم

ورسره داخل وی په ځینو روایاتو کښی راغلی دی چی نبی الکریم یو ځلی فرمایلی وو «**لیس احد یعبد من دون الله فیه خیر**» نو کفارو وویل چی آیا په مسیح کښی هم څه خیر او ښیگڼه (فائده) نشته؟ ظاهر دی چی د آیت او د رسول الله د دی الفاظو مطلب له هغو شیانو سره متعلق وو چی مشرکان د هغوی په عبادت کښی لگیا وو او په دغو معبودینو کښی د دغی خبری قوت او قدرت هم نه وو چی د خپلو عابدینو جواب په لا او نعم سره ورکړی شی یا دوی له دغه ناحقه عبادت څخه منع کړی یا د خپلی بیزاری اعلان هغوی ته واوروی. مگر د دغو معترضینو منشاء تش جگړه کول او اعتراض ایستل، او د مناقشی او مجادلی خبری پیدا کول، او د حق لتاړول وو، نو ځکه قصداً به ئی داسی خبری جوړولی چی د متکلم له مراده مخالفی وی، کله به ئی داسی ویل بس کړه! مونږ ته معلوم شو چی تاسی هم له مونږ څخه د خپل ځان هم هغسی عبادت غواړئ لکه چی نصاریٰ ئی مسیح علیه السلام ته کوی. ښائی چی کله به ئی داسی ویل چی پخپله قرآن د حضرت مسیح علیه السلام مثال داسی بیان کړی دی.

﴿ اِنَّ مَثَلَ عِيسٰى عِنْدَ اللّٰهِ كَمَثَلِ اٰدَمَ خَلَقَهٗ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴾ جزء ۳ (د آل عمران ٦ رکوع) ٦٨ آیت اوس وگورئ چی زمونږ معبودان ښه دی که مسیح علیه السلام تاسی ولی د مسیح ذکر په خیر سره کوئ او زمونږ معبودانو ته ردی بدی خبری کوئ او خدای زده چی نور به څه شیان ویل د دغو گردو (تولو) خبرو جواب وروسته له دی نه الله اجل واعلیٰ شانه واکرم واعظم برهانه داسی فرمائی.

---

مَا ضَرَبُوْهُ لَكَ اِلَّا جَدَلًا ؕ بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُوْنَ ﴿۵۸﴾ اِنْ هُوَ اِلَّا عَبْدٌ اَنْعَمْنَا عَلَيْهِ وَجَعَلْنٰهُ مَثَلًا لِّبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿۵۹﴾

---

نه دی نړلی دوی دغه مثال تا لره مگر محض دپاره د مجادلی خصومت جگړی بلکه دوی یو قوم جگړه کوونکی دی (په هر کار کښی)، نه دی دغه (عیسیٰ) مگر یو بنده دی چی نعمت کړی ؤ مونږ پری او گرځولی مو وو دی یو مثل دپاره د بنی اسرائیلو.

---

**تفسیر :** یعنی یواځی په هم دغه مسئله کښی د دوی دغه جگړی نه دی محدودی بلکه د دوی په طبیعت کښی جگړه او جنجال واقع دی سمی او صافی خبری هیڅ کله د دوی په مغزو کښی ځای نه نیسی، هم داسی مهملی او چتی (بیکاره) مباحثی او لری له مقصده جگړی راوباسی. چیری هغه شیاطین چی پر خلقو خپل عبادت اجرا کوی. او پر هغو دوی خوښیږی، یا هغه د تیږی (گټی) بیځانه بتان چی پر دغه بیخی قوت او قدرت نه لری چی خلق له کفره او شرکه منع کړی او چیری د لوی الله هغه مقبول بنده چی پری الله تعالیٰ خپل خاص فضل او کرم

فرمایلی او د بنی اسرآئیلو د هدایت دپاره ئی درولی وو چی دی پخپله پر خپل عبودیت مقر وو او هم خپل امت ئی د وحدانیت په طرف باله او هغوی ته به ئی داسی ویل ﴿ إِنَّ اللَّهَ هُوَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ هَٰذَا صِرَاطٌ مُسْتَقِيمٌ ﴾ نو آیا دغه مقبول بنده ته (العیاذ بالله) «حصب جهنم» یا «لیس فیه خیر» ویلی کیدی شی؟ یا د تیږو (ګټو) بتان له هغه سره برابری او سیالی کولی شی؟ په یاد ئی ولرئ چی لوی قرآن هیڅ یوه بنده ته د الوهیت درجه نه ورکوی. د ده تول جهاد د هم دغه مضمون په خلاف دی. هو! داسی هم نشی کیدی چی محض د څو تنو احمقانو او ناپوهانو د ادعا په موجب چی ده ته د الوهیت نسبت کوی خپل دغه مقرب او مقبول بنده د تیږو (ګټو) له بتانو یا له نورو شریرانو سره برابر کړی.

---

وَلَوْ نَشَاءُ لَجَعَلْنَا مِنْكُمْ مَلَائِكَةً فِي الْأَرْضِ يَخْلُفُونَ ﴿٦٠﴾

---

او که اراده فرمائلی وی مونږ نو خامخا ګرځولی به مو وی په ځای د تاسی پرښتی په ځمکه کښی چی خلیفګانی شوی به وی.

---

**تفسیر :** یعنی په عیسیٰ علیه السلام کښی د پرښتو لږ څه آثار وو لکه چی د «المائدة» او د «آل عمران» او د «کهف» د سورتونو په تفاسیرو کښی اشاره کړی شوی ده په دغومره یوه خبره هیڅوک نشی معبود کیدی. که تاسی غواړی نو ستاسی له نسله به مونږ هم داسی خلق پیدا کړو یا ستاسی په ځای به له آسمانه پرښتی راښکته او په ځمکه کښی به ئی ودانی کړو. مونږ ته دغه تول قدرت حاصل دی.

---

وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِلسَّاعَةِ

---

او بیشکه دغه (عیسیٰ) خامخا علامه نښه ده دپاره د قیامت (په اعتبار د نزول سره)

---

**تفسیر :** یعنی د حضرت مسیح علیه السلام اول ځلی راتلل خو خاص د بنی اسرآئیلو دپاره یوه د قدرت نښه وه چی بی له پلاره پیدا شو، او عجیبی او غریبی معجزی ئی ورښکاره کړی، او د ده دوهم ځلی راتګ به د قیامت له نښو څخه وی، د ده له نزوله به خلق معلوم کړی چی قیامت بیخی نژدی رارسیدلی دی.

---

فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَاتَّبِعُونِ ۚ هَٰذَا صِرَاطٌ مُسْتَقِيمٌ ﴿٦١﴾ وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ

الشَّيْطٰنُ ۚ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿۶۲﴾

پس شک مه کوئ تاسی په (راتلو د) قیامت کښې او متابعت وکړئ زما (په توحید کښې) دغه لیاره ده سمه برابره (چې نه پرې ګمراه کیږې هیڅوک) او نه دې اړوی تاسی شیطان (له دغې سمې لیارې) بیشکه چې (دغه شیطان) تاسی ته دښمن دی ښکاره.

**تفسیر :** یعنې د قیامت په راتګ کښې شک مه کوئ! او د توحید او د ایمان پر هغې سمې لیارې چې زه ئې تاسی ته درښیم سم برابر لاړ شئ! نه چې ستاسی ازلی دښمن شیطان تاسی له هغې لیارې څخه منع کړی او مخه مو ونیسی.

وَلَمَّا جَآءَ عِيسٰى بِالْبَيِّنٰتِ قَالَ قَدْ جِئْتُكُمْ بِالْحِكْمَةِ وَلِأُبَيِّنَ لَكُمْ بَعْضَ الَّذِى تَخْتَلِفُونَ فِيهِ ۚ

او کله چې راغی عیسیٰ په دلائلو ښکاره‌وو سره وویل (عیسیٰ) چې په تحقیق راغلی یم زه تاسی ته په حکمت (نبوت شریعت ښه درایت پخې خبرې) او دپاره د دې چې بیان کړم تاسی ته ځینې له هغو احکامو چې وئ تاسی چې اختلاف به مو کاوه په هغو کښې (له امورو د دین نه)

**تفسیر :** یعنې دینی خبری یا ځینې هغه شیان چې د موسوی شریعت له طرفه حرام دوړلی شوی وو د هغه حلت بیان تاسو ته کوم کما جاء فی الرکوع (۵) آیت ۵۰ من سورة آل عمران

﴿ وَلِأُحِلَّ لَكُمْ بَعْضَ الَّذِى حُرِّمَ عَلَيْكُمْ ﴾

فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَأَطِيعُونِ ﴿۶۳﴾ إِنَّ اللّٰهَ هُوَ رَبِّى وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ ۚ هٰذَا صِرٰطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿۶۴﴾

پس وویریږئ له (عذابه د) الله او اطاعت وکړئ زما (په شرعیه ؤ امورو کښې). بیشکه الله هم هغه دی رب زما او رب ستاسو پس عبادت کوئ یواځې د دغه (الله او حکم ئې منئ) دغه لیاره ده سمه برابره.

**تفسیر :** دغه تعلیم وو د حضرت مسیح علیه السلام وګورئ چی په څومره صفائی او درستی سره ئی د واحد الله د ربوبیت او معبودیت بیان فرمایلی دی او هم دغه توحید، اتقاء او د رسول الله اطاعت ئی صراطالمستقیم درولی دی.

فَاخْتَلَفَ الْأَحْزَابُ مِنْ بَيْنِهِمْ

پس مختلف شول سره دغه قومونه (د نصاریٰ) په منځ خپل کښی.

**تفسیر :** یعنی اختلاف واقع شو. یهودان تری منکران شول او نصرانیان پری قائلان شول بیا وروسته له دی نه نصرانیان هم سره څو ډلی شول، ځینی حضرت مسیح ته د الله تعالیٰ ځوی وائی ځینی له دری خدایانو یو خدای ورته وائی، ځینی یو څه وائی او ځینی بل څه وائی د حضرت مسیح علیه السلام پر اصلی تعلیم خو یر تن هم نه دی پاتی.

فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْ عَذَابِ يَوْمٍ أَلِيمٍ ﴿٦٥﴾ هَلْ يَنظُرُونَ
إِلَّا السَّاعَةَ أَن تَأْتِيَهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٦٦﴾

پس افسوس هلاک خرابی ده دپاره د هغو کسانو چی ظلم ئی کړی دی (په باب د عیسیٰ کښی) له عذابه د ورځی درد ورکوونکی. آیا منتظر دی (دغه احزاب یا کفار د مکی یعنی نه دی) مګر قیامت ته چی رابه شی دوی ته یو ناڅاپه او دوی به نه پوهیږی (په وخت د راتلو ئی قبلالظهور).

**تفسیر :** یعنی له داسی ښکاره ؤ او واضحو بیاناتو او هدایاتو سره هم که دغه خلق د حق او صدق منونکی نه دی نو بالاخر دوی د څه شی په انتظار کښی دی؟ د دوی د دغه وضعیت او احوال له لیدلو څخه داسی ویل کیدی شی چی که قیامت یو ځلی ناڅاپه د دوی پر سرونو ودریږی نو هلته به ئی ومنی. حال دا چی د هغه وخت منل له سره په درد نه خوری او مفید نه واقع کیږی.

الْأَخِلَّاءُ يَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا الْمُتَّقِينَ ﴿٦٧﴾

یاران (دوستان د کفر او معصیت) په دنیا کښې په دغه ورځ (د قیامت کښې) ځینی د دوی له ځینو نورو سره به دښمنان وی مګر (پاتې به وی دوستی) د متقیانو.

**تفسیر** : په دغه ورځ کښې به دوست له دوست څخه لری تښتی نه چی زه هم د ده په شامت ونیولی شم د دنیا دغه ګردی (تولی) دوستی او محبت او خپلوی به سره منقطع کیږی انسان به افسوس او ارمان کوی چه ولې می له هغه شریر سری سره دوستی کړی وه چی د هغه په غولولو او لمسولو سره زه نن په دغه مصیبت کښې اخته شوم په دغه وخت کښې به ډیر خوږ او مین محبوب هم د خپلی خوږی او مینی محبوبی له لیدلو ځنی ویرېږی به او یو د بل له لیدلو څخه به بیزاره وی. هو! د هغو کسانو محبت او دوستی به په کار ورځی چی خاص د الله دپاره وی.
او نداء به وکړه شی پر دغو مؤمنانو باندی د الله اعظم شانه واکرم برهانه له جانبه داسی چی

يٰعِبَادِ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡكُمُ الۡيَوۡمَ وَلَاۤ اَنۡتُمۡ تَحۡزَنُوۡنَ ﴿۶۸﴾

ای بندګانو زما نشته هیڅ ویره پر تاسی نن ورځ او نه به تاسی غمجن کیږئ.

**تفسیر** : یعنی نه د وړاندی ویره او نه به د وروستی غم اندیښنه ورسره وی. او د دوی صفت دغه دی

اَلَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا بِاٰيٰتِنَا وَكَانُوۡا مُسۡلِمِيۡنَ ﴿۶۹﴾

هغه کسان چی ایمان ئی راوړی دی په آیتونو زمونږ او وو دوی مسلمانان (په دنیا کښی).

**تفسیر** : یعنی په زړه سره ئی یقین وکړ او پخپلو نورو جوارحو او اعضاوو سره ئی د ده احکام په ځای راوړل او د اطاعت او انابت غاړه ئی ورته کیښوده. له دی ځایه د ایمان او اسلام فرق ظاهرېږی لکه چی د جبریل علیه السلام په حدیث کښی د دی مفصل بیان شوی دی.
بیا به وویلی شی دغو مؤمنانو ته له جانبه د الله اکرم شانه واعظم برهانه داسی چی

اُدۡخُلُوا الۡجَنَّةَ اَنۡتُمۡ وَاَزۡوَاجُكُمۡ تُحۡبَرُوۡنَ ﴿۷۰﴾ يُطَافُ عَلَيۡهِمۡ بِصِحَافٍ

مِّن ذَهَبٍ وَأَكْوَابٍ ۖ وَفِيهَا مَا تَشْتَهِيهِ الْأَنفُسُ وَتَلَذُّ الْأَعْيُنُ ۖ

ننوځئ (ای زما مؤمنانو بندګانو) جنت ته تاسي او ښځي ستاسي چي خوشاله
به کړل شئ. ګرځولی کیږی به (د غلمانو له خوا) پر دغو جنتیانو کاسي
ګلاسونه له سرو زرو څخه او (طلائی) صراحي ګانی او (وی به دوی ته) په
دغه (جنت) کښي هغه شیزونه چي خواهش کوی د هغو نفسونه (د دوی) او
چي خوند اخلی سترګی (د دوی تری).

**تفسیر** : له ټولو څخه هغه اعلیٰ او اولیٰ شیز چي تری سترګی په لیدلو سره رڼی او یخی او
زړونه آرامی او هوسائی (راحت) مومی د الله تعالیٰ لقاء رزقنا الله تعالیٰ بفضله ومنه.

وَأَنتُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٧١﴾ وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٧٢﴾

او تاسي په دغه جنت کښي همیشه اوسیدونکي یئ. او دغه جنت دی هغه چي
په میراث درکړی شوی دی هغه تاسو ته په سبب د هغو (نیکو عملونو) چي
وئ تاسي چي کول به مو په دنیا کښي.

**تفسیر** : یعنی ستاسی د پلار آدم علیه السلام میراث تاسی ته بیا درورسیده او دغه د الله
تعالیٰ فضل او مرحمت او ستاسی د اعمالو برکت دی.

لَكُمْ فِيهَا فَاكِهَةٌ كَثِيرَةٌ مِّنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿٧٣﴾ إِنَّ الْمُجْرِمِينَ
فِي عَذَابِ جَهَنَّمَ خَالِدُونَ ﴿٧٤﴾ لَا يُفَتَّرُ عَنْهُمْ وَهُمْ فِيهِ مُبْلِسُونَ ﴿٧٥﴾

شته تاسی ته په دغه (جنت) کښي (ښي غوری منتخبی) میوی ډیری چي له
هغو څخه به ئی خورئ تاسی. بیشکه چي مجرمان (کافران) په عذاب د دوزخ
کښي به همیشه پاتي کیدونکي وی نه به سپکاوه شی له دوی څني (عذاب)
او دوی به په دغه عذاب کښي ساکت ناامیده وی (له نجاته او نشاطه).

**تفسیر** : یعنی عذاب به نه کوم وخت ملتوی کیږی او نه سپکاوه شی. دوزخیان به ناامیده
کیږی چي اوس په هیڅ صورت له دی ځایه نشو وتلی او نه د وتلو څه سبیل او لیاره شته.

وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْا هُمُ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٧٦﴾

او نه دی کړی مونږ ظلم پر دوی ولیکن دوی وو هم دوی ظالمان (پر ځانونو خپلو په کفر سره)

**تفسیر :** یعنی مونږ په دنیا کښې د نیکی او بدی هره خوا او هر پلو دوی ته ښوولی او پوهولی وو او انبیاؤ الله می لیږلی وو او پر دوی می د حجت اتمام کړی وو او هیڅ یو معقول عذر می دوی ته باقی نه وو پریښی خو سره له هغه دوی ونه منل او له خپلو تیریو او زیاتو ځخه ئی لاس وانه خیست. که داسی ظالمینو او متجاوزینو ته سزا ورکړه شی نو ځوک دغی سزا ته ظلم ویلی شی.؟

وَنَادَوْا يٰمٰلِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ ط

او غږ به وکړی (جهنمیان) چی ای مالکه (خازنه د دوزخ) حکم دی وکړی پر مونږ رب ستا (د مرګ)

**تفسیر :** «مالک» د هغی پرښتی نوم دی چی پر دوزخ مؤکله ده او د اور داروغه ورته ویلی شی. دوزخیان به ده ته غږ کوی او ناری به وهی چی مونږ نه مرو او نه خلاصی مومو ته دی خپل رب ته ووایه چی یو ځلی دی مونږ ته عذاب راکړی او کار مو دی له بیخه تمام کړی. ګواکی له نجاته بی هیلی او مآیوس کیږی او د مرګ په ارمان کښی لویږی.

قَالَ اِنَّكُمْ مّٰكِثُوْنَ ﴿٧٧﴾

وبه وائی (ملک خازن پس له زرو کلو په جواب د دوی) چی بیشکه تاسی (ژوندی) پاتی کیدونکی یئ (په دوزخ کښی).

**تفسیر:** یعنی له چغو او شورماشور ځخه هیڅ فائده نه دررسیږی تاسی په هم دغه خپل حال تل ترتله پاتی کیدونکی یئ. وائی چی دوزخیان به تر یو زر کاله چغی وهی، ناری سوری به کوی بالاخر دوی ته به داسی یو جواب اوراوه شی او د الله اجل واعلیٰ شانه واکرم واعظم برهانه له جانبه داسی ویلی کیږی

لَقَدْ جِئْنٰكُمْ بِالْحَقِّ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَكُمْ لِلْحَقِّ كٰرِهُوْنَ ﴿٧٨﴾

خامخا به تحقيق راغلي وو مونږ تاسي ته (په وسيله د انبياؤ) په حق سره وليکن زياتره ستاسي حق لره بد ګنونکي يئ (چې حق به مو نه قبلاوه).

تفسير : يعني هغه سزا تاسي ته پر دغه جرم درکړی شوی ده چې تاسي على‌الاکثر د صداقت او حقانيت په خلاف اقدامات کول او زيات له تاسي د ړندو په شان په هغه پسې لويدلي وئ.

أَمْ أَبْرَمُوٓا۟ أَمْرًا فَإِنَّا مُبْرِمُونَ ﴿٧٩﴾

بلکه محکم کړي دي (کفارو په خلاف د انبياؤ) يو کار پس بيشکه مونږ هم محکم کوونکي يو (د تدبير خپل).

تفسير : د عربو کفار زمونږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خلاف راز راز (قسم قسم) پلمې (تدبيرونه) او حيلې جوړولې او قسم په قسم پټ تدبيرونه به ئې سره ترل مګر د الله تعالىٰ خفيه تدبير د دوی پر دغو ګردو (تولو) پلمو (تدبيرونو) باندې اوبه بهولې. حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليکي «کفارو ګردو (تولو) سره يو ځای داسې مشوره او جرګه کړې وه چې زمونږ له تغافله د دغه نبي کار پرمخ تګ وکړ او ډير ترقي ئې ومونده وروسته له دې نه هر يو سړی چې د ده په دين کښې داخليږي ښائي چې د هغه نور خپلوان هغه ووهي او تر هغه پورې ئې ودبوي څو بيرته مرتد شي او هر يو اجنبي سړی چې دغه ښار ته ننوځي ښائي چې هغه په دغو خبره خبردار کړی شي څو د دغه سړي شاو خوا ونه ګرځي او له سره ورنژدې نشي» دغه خبرې دوی پخپلو منځو کښې سره غوټه کړې او الله تعالىٰ داسې اراده وفرمايله چې متدرجاً دوی ته ذلت او رسوائي او خپل دين او رسول ته عروج او ترقي ورکوم لکه چې بالاخر د پاک الله اراده غالبه وګرځيده.

أَمْ يَحْسَبُونَ أَنَّا لَا نَسْمَعُ سِرَّهُمْ وَنَجْوَىٰهُم ۚ بَلَىٰ وَرُسُلُنَا لَدَيْهِمْ يَكْتُبُونَ ﴿٨٠﴾

آيا ګمان کوونکي دي (کفار) چې بيشکه مونږ نه آورو پټې خبرې د دوی او پټې مشورې د دوی (نه ده داسې) بلکه آورو ئې او رسولان زمونږ (چې حفظه ملکي دي) له دوی سره دي چې ليکي (تول اعمال د دوی)

تفسير : يعني دوی د زړونو پر اسرارو، نياتو او پټو خبرو مونږ پوهيږو او د دوی پټې جرګې او مشورې مونږ آورو او سم د حکومت د انتظامي ضابطې سره زمونږ پرښتې (کراماً کاتبين) د دوی ګرد (تول) اعمال ليکي دغه ګرد (تول) دفاتر به د قيامت په ورځ وروړاندې کيږي.

قُلۡ إِن كَانَ لِلرَّحۡمَٰنِ وَلَدٞ فَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلۡعَٰبِدِينَ ﴿٨١﴾

ووايه (اى محمده ! دوى ته) كه وى (بالفرض والتقدير لكه چى تاسى وايئ) رحمٰن ته ولد (ځوى لور) پس زه به (دغه ولد لره) ړومبنى له عبادت كوونكيو وم (خو الله له ګردو (تولو) عيوبو څخه پاک دى ولد نه لرى).

**تفسير :** يعنى له دى نه لوى ظلم به بل څه وى چى الله تعالىٰ ته ځامن او لونى تجويزوئ، تاسى وايئ كه په فرض محال سره الله تعالىٰ اولاد درلودى (لرلى) نو ړومبنى سړى به زه وم چى د ده د اولاد عبادت به مى كاوه ځكه چى په دنيا كښى زه له ګردو (تولو) څخنى زيات د الله تعالىٰ عبادت كوونكى يم او هر چاته چى هومره زياته علاقه له الله تعالىٰ سره وى په هم هغه تناسب ښائى د ده له اولاد سره ئى هم وى. بيا څه مهال (وخت) چى زه سره له اول العابدين توبه د هيڅ يو موجود په ولديت الله ته قائل نه يم نو تاسى څرنګه د پاک الله داسى منونكى يئ چى د ده تر فرضى اولاده حقوق هم منئ؟.

**تنبيه :** ځينو مفسرينو د دى آيت مطلب داسى ليكلى دى. «كه ستاسى په اعتقاد كښى د الله تعالىٰ كوم اولاد وى نو په ياد ئى ولرئ چى زه ستاسى په مقابل كښى د هغه واحد الله تعالىٰ عبادت كوونكى يم چى له اولاد او احفاد او نورو بشرى صفاتو څخه پاک او منزه دى. ځينو د «عابد» معنى په جاحد «منكر» سره كړى ده. يعنى له دى فاسدى عقيدى څخه له ګردو (تولو) څخه ړومبنى انكار كوونكى او ترديد كوونكى يم. او د ځينو نورو په نزد «ان» نافيه ده يعنى رحمٰن هيڅ اولاد نه لرى. مګر دغه قول څه زيات قوى نه دى. نور احتمالات هم شته چى دلته د هغو تولو د استيعاب ځاى نشته. والله تعالىٰ اعلم. اوس الله تعالىٰ د خپل ذات پاكى داسى فرمائى

سُبۡحَٰنَ رَبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ رَبِّ ٱلۡعَرۡشِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٨٢﴾

پاكى ده رب د آسمانونو ته او (رب د) ځمكى ته رب د عرش ته له هغه څه چى بيانوى (دوى ورته چى نسبت د ولد او شرک او نور عيوب دى).

**تفسير :** يعنى د هغو خبرو نسبت چى دغه خلق الله تعالىٰ ته كوى، مثلاً اولاد او نور، له هغو ګردو (تولو) څخنى د الله تعالىٰ ذات پورته او منزه دى. د ده په ذات كښى د دى خبرى له سره امكان نشته چى معاذ الله د چا پلار يا ځوى شى.

فَذَرۡهُمۡ يَخُوضُواْ وَيَلۡعَبُواْ حَتَّىٰ يُلَٰقُواْ يَوۡمَهُمُ ٱلَّذِي يُوعَدُونَ ﴿٨٣﴾

پس پریږده دوی چې غوټې وهي (په باطلو خبرو) او لوبې کوي تر هغه پورې چې ملاقات وکړي له ورځې د دوی سره هغه (هغه ورځ) چې وعده کړی شوی ده (له دوی سره په دغه ورځ د قیامت کښې د عذاب).

**تفسیر :** یعني دوی د غفلت او حماقت په نشو کښې هر څه چتې (بیکاره) او چټولې خبرې چې کوي ودې کړي، او تاسې له سره ورته توجه او التفات مه کوئ! دغه خلق د څو ورځو له مخې په دنیوي عیش او عشرت او چرچو او نندارو کښې خپلې ورځې تیروي. بالاخر هغه موعوده ورځ راتلونکې ده چې په هغې کښې دوی ته د دوی دغه بې‌ادبۍ او ګستاخۍ او نور شرارتونه یو په یو وروړاندې کیږي او د هغو په مقابل به دوی د هر یوه د خوند او مزې څکونکي وي.

وَهُوَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ إِلَٰهٌ وَفِي الْأَرْضِ إِلَٰهٌ ۚ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْعَلِيمُ ﴿٨٤﴾

او الله هغه (لوی ذات) دی چې په آسمانونو کښې معبود دی او په ځمکه کښې معبود او هم دی دی ښه حکمت والا ښه عالم.

**تفسیر :** یعني نه په آسمان کښې پرښتې، لمر، قمر، او ستوري معبود ګرځیدی شي او نه په ځمکه کښې اصنام، اوثان او بتان او نور. د ګردو (ټولو) علویاتو او سفلیاتو او مافیهما حقیقي معبود هم هغه واحد احد الله تعالیٰ دی چې له فرشه تر عرشه پورې د ګردو (ټولو) اشیاؤ مالک او خالق دی. او د ټولو اکوانو او امکنه ؤ، ازمنه وو پخپل علم او اختیار سره مالک او متصرف دی.

وَتَبَارَكَ الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَعِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ

او برکت ناک دی هغه (لوی ذات) چې خاص ده ته دی ملک سلطنت د آسمانونو او د ځمکې او د هر هغه څه چې په منځ د دغو دواړو کښې دی او (خاص) له هم ده سره دی علم د قیامت.

**تفسیر :** یعني قیامت کله راځي؟ د دې خبرې علم یواځې له هغه مالک الملکوت او صاحب الکبریاء والجبروت الله اجل واعلیٰ شانه واعظم واکرم برهانه سره دی.

وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٨٥﴾

او خاص هم دغه (الله) ته به بیرته بیولی شئ (تول قیامت ته له پاره د جزاء)

**تفسیر :** یعنی کله چی هلته ورسیږئ د کردو (تولو) حسناتو او سیئاتو حساب او کتاب به مو کیږی، او د هغو ثواب او عذاب به دررسیږی.

وَلَا يَمْلِكُ الَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِ الشَّفَاعَةَ إِلَّا مَن شَهِدَ بِالْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٨٦﴾

او اختیار نه لری هغه معبودان چی دوی ئی عبادت کوی بی له دغه (الله) د شفاعت (لکه چی منکران گمان کوی) مگر هغه څوک چی شاهدی ئی ویلی وی (په ژبه) په حقه سره حال دا چی دوی پوهیږی (او علم ئی وی پر هغو باندی په زړه سره)

**تفسیر :** یعنی دومره سپارښت کولی شی، هر هغه چا چی له خپل علم سره موافق د اسلام حق کښنی د یوه حرف سپارښت نشی کیدی. دغومره سپارښت به هم هغه صالحین وکړی چی د دوی په رښتین توب خبردار وی او په دی باندی ښه پوهیږی چی دغه په ژبه او په زړه سره مسلمان دی، نورو ته به داسی اجازه نه وی.

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٨٧﴾

او قسم دی که وپوښتی ته دوی چی چا پیدا کړی دی دغه (عابدان او معبودان) نو خامخا وبه وائی هرومرو (خامخا) دوی چی الله (پیدا کړی دی) پس کوم طرف ته گرځول کیږی دغه (مشرکان له عبادت د الله)

**تفسیر :** یعنی کله چی پیدا کوونکی هم دغه یو الله دی نو د بندگی او د عبادت مستحق ولی نور شول؟ عبادت د انتهائی تذلل نوم دی او دغه تذلل د هغه ذات دپاره ښائی چه وکړی چی د انتهائی عظمت او جبروت څیښتن (خاوند) دی. دیر د تعجب ځای دی چی دوی مقدمات تسلیموی لیکن د هغو له نتایجو څخه منکران کیږی.

وَقِيلِهِ يَا رَبِّ إِنَّ هَٰؤُلَاءِ قَوْمٌ لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾

او (قسم دی) پر دغی وینا د دغه (رسول) چی ای رب زما بیشکه دغه (قریشي منکران) یو قوم دی چی ایمان نه راوړی دوی (په مومن به شیانو باندی)

**تفسیر :** یعنی د نبی دغه وینا هم الله تعالیٰ ته معلومه ده. د ده پر دغه د اخلاصو التجا او له درده ډک غږ باندی الله قسم یادوی چی الله به هرومرو (خامخا) له ده سره امداد او مرسته کوی او پخپل فضل او مرحمت سره ئی حتماً غالب، مظفر او منصور ګرځوی. وفرمائل الله اکرم شانه واعظم برهانه داسی چی

فَاصْفَحْ عَنْهُمْ وَقُلْ سَلَٰمٌ

پس مخ وګرځوه له دوی (او طمع پریکړه له ایمانه د دوی) او ووایه (ای محمده! دوی ته غواړم له شره ستا) سلامتی.

**تفسیر :** یعنی غم مه خوره! او زیات په دوی پسی مه لویږه! محض د دعوت او تبلیغ فریضه دی اداء کوه! نو بیا له دوی ځنی خپل مخ وګرځوه! او ووایه ښه ده که تاسی زما خبرو ته غوږ نه ږدئ نو زما سلام دی وی تاسی ته.
(وکان هذا قبل الامر بالقتال).

فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٨٩﴾

پس ژر ده چی پوه به شی دوی (په عاقبت د کفر خپل).

**تفسیر :** یعنی بالاخره دوی ته به دغه خبره ښکاریږی چی دوی په څرنګه یوی لویٔ غلطی کښی لویدلی وو؟ لکه چی پر خپلو دغو تیروتو باندی ځینی کسان لږ څه په هم دغه جهان کښی پوه شوی هم دی خو د هغه پوره تکمیل په آخرت کښی کیدونکی دی.

**تمت سورة «الزخرف» بعون الله و توفیقه فلله الحمد والمنة**

سورة الدخان مكية وهي تسع وخمسون آية وثلاث ركوعات
رقم تلاوتها (٤٤) تسلسلها حسب النزول (٦٤) نزلت بعد سورة «الزخرف»

د «الدخان» سورت مکی دی (٥٩) آیت دری رکوع لری په تلاوت کښی (٤٤) او په نزول کښی (٦٤)
سورت دی وروسته د «الزخرف» له سورت څخه نازل شوی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

حٰمٓ ﴿١﴾ وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ﴿٢﴾ إِنَّآ أَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةٍ مُّبٰرَكَةٍ

قسم دی پر دغه کتاب ښکاره کوونکی (د دینی احکامو) چی بیشکه مونږ نازل کړی مو دی هغه په شپه برکتناکه کښی.

**تفسیر :** د «برکت شپه» د قدر شپه ده کما قال الله تعالیٰ فی سورة القدر ﴿ إِنَّآ أَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ ﴾ چی د رمضان المبارک په میاشت کښی واقع ده له قوله تعالیٰ ﴿ شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيْٓ أُنْزِلَ فِيْهِ الْقُرْاٰنُ ﴾ (د البقرة (٢٣) رکوع) ١٨٥ آیت په دغه شپه کښی عظیم الشان قرآن له لوح محفوظ څخه سماء الدنیا ته نازل کړی شوی دی او بیا له هغه ځای متدرجاً په درویشتو کلونو کیتی پر رسول الله صلی الله علیه وسلم نازل شوی دی. هم په هم دغه شپه کښی پر رسول الله مبارک د پاک قرآن ابتدائی نزول شروع شوی دی.

إِنَّا كُنَّا مُنْذِرِيْنَ ﴿٣﴾

بیشکه مونږ یو ویروونکی (په رالیږلو د دغه قرآن).

**تفسیر :** یعنی آورول همیشه زمونږ کار او دستور وو چی له هغه سره موافق دغه پاک قرآن هم نازل شوی دی.

فِيْهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيْمٍ ﴿٤﴾ أَمْرًا مِّنْ عِنْدِنَا

په دغه (شپه) کښی بیانوه شی بیلاوه شی هر کار حکمتناک (داسی تینګ چی نه بدلیږی) حکم له نزده زمونږ

تفسیر : یعنی د ټول کال په متعلق د قضاء او قدر ګرد (ټول) د حکمت او د مصلحت ډکی قاطعی او لایتغیری فیصلی په دغی عظیم‌الشانی شپی کښی له لوح محفوظ څخه نقل کیږی او هغو پرښتو ته سپارلی کیږی چی د تکویناتو په شعبو کښی کار کوی. له ځینو روایاتو څخه معلومیږی چی هغه د شعبان المعظم پنځلسمه شپه ده چی ورته د «برآءة» شپه وائی ممکن دی چی له دغه وخته د دی کار ابتداء او د قدر په شپه انتهاء مومی، والله اعلم.

إِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ ۝٥

بیشکه مونږ یو لیږونکی (د رسولانو).

تفسیر : یعنی (مونږ لیږونکی یو د) پرښتی پر هر هغه کار چی له دوی سره مناسب وی لکه چی جبرئیل علیه السلام ئی سره له پاک قرآن محمد صلی الله علیه وعلیٰ آله وصحبه وسلم ته ولیږه.

رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ۝٦

دپاره د رحمت (او مهربانی پر خلقو) له رب ستا بیشکه الله هم دی دی ښه اوریدونکی د (ټولو) اقوالو ښه عالم (په ټولو احوالو)

تفسیر : یعنی الله تعالیٰ د ټول عالم له ګردو (ټولو) حالاتو څخه باخبر دی د دوی غږ او دعاء اوری، ځکه په عین ضرورت کښی ئی خاتم النبیین صلی الله علیه وسلم ته قرآن ورکړ، او د عالم دپاره ئی د لوی رحمت په شان ولیږه.

رَبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَآ ۖ إِن كُنتُم مُّوقِنِينَ ۝٧

(رحمت دی ټولو ته له طرفه د) رب د اسمانونو او (رب د) ځمکی او (رب د) هغو شیانو چی په منځ د دوی کښی دی که چیری یئ تاسی یقین کوونکی (نو یقین وکړئ چی محمد د الله رسول دی).

تفسیر : یعنی که په تاسی کښی پر کوم شی د یقین لرلو صلاحیت وی نو له ګردو (ټولو) شیانو څخه ړومبی شی د یقین کولو قابل د الله تعالیٰ عمومی ربوبیت دی چی د هغه آثار په هر هر ذره کښی له روښانی ورځی څخه زیات ښکاره او څرګند دی. او د حضرت محمد رسول الله

صلى الله عليه وسلم رسالت دی.

لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ يُحْيِۦ وَيُمِيتُ ۖ رَبُّكُمْ وَرَبُّ ءَابَآئِكُمُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٨﴾

نشته لائق د عبادت بل هیڅوک مګر هم دی دی چی ژوندی کوی او وژل کوی (دغه الله) رب ستاسی دی او رب د پلرونو ړومبنیو ستاسی دی.

**تفسیر :** یعنی چی د هغه الله په قبضه کښی ژوندی کول او مړه کول او د وجود او عدم واک او اختیار د هغه د قدرت په لاس کښی وی او ګرد (تول) اولین او آخرین ئی تر پالنی او تربیت لاندی دی آیا ما سواء له هغه د بل چا عبادت او بندګی جایزه ده؟ دغه یو داسی صاف او ښکاره حقیقت دی چی په هغه کښی د شک او شبهی هیڅ ځای او ګنجایش نشته.

بَلْ هُمْ فِى شَكٍّ يَلْعَبُونَ ﴿٩﴾

(یقین نه کوی) بلکه دوی په شک کښی دی (له بعث نه) چی لوبی مسخری کوونکی دی (په مؤمن به شیانو).

**تفسیر :** یعنی د دغو واضحه وو ښو او دلائلو اقتضاء خو داسی وه چی دغو خلقو به هغه منل مګر سره له هغه دوی ئی نه منی بلکه دوی د توحید او د نورو حقه ؤ عقائدو له طرفه په شکوکو او شبهو کښی لویدلی دی او په دنیوی عیش او عشرت او لهو او لعبو کښی سره مصروف او لګیا دی، او د اخروی اندیښنی څخه بیخی بی فکره دی چی د حق په طلب کښی مشغول شی او په هغه کار له غور او فکر څخه کار واخلی. دوی په دغه شک او شبهه کښی دی چی تل به دوی هم داسی اوسیږی او له سره له الله تعالیٰ سره د مخامخ کیدلو په فکر او اندیښنه کښی نه دی نو ځکه د نصیحت پر خبرو توکی او مسخری کوی، او پری خاندی او ملندی وهی.

فَٱرْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِى ٱلسَّمَآءُ بِدُخَانٍ مُّبِينٍ ﴿١٠﴾ يَغْشَى ٱلنَّاسَ ۖ هَٰذَا عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١١﴾

پس منتظر اوسه (ای محمده! دوی ته) په هغه ورځ چی راشی دا آسمان په لوګی ښکاره سره چی پټ به کړی تول مخلوق، (وبه وائی دوی) دغه عذاب

ډیر دردناک دی.

**تفسیر :** له «لوګی» څخه دلته څه مراد دی؟ په دغه مورد کښې د اسلافو دوه قوله دی. ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه او نور وائی چی قیامت ته نژدی به یو لوګی پورته کیږی چی ګرد (تول) خلق به پټوی. نیکو سړیو ته به د ده ډیر لږ خفیف څه اثر د زکام په شان ورسیږی. او د کفارو او منافقینو په ستونیو او دماغو کښی ننوځی او بی هوشه کوی ئی. دلته هم هغه لوګی مراد دی. ښائی دغه لوګی هم هغه د سماواتو ماده وی چه د هغه ذکر په ﴿ ثُمَّ اسْتَوَىٰ إِلَى السَّمَاءِ وَهِيَ دُخَانٌ ﴾ کښی شوی دی. ګواکی آسمان تحلیل او د خپل اصلی حالت په طرف عود کوی. او دغه به ئی ابتداء وی والله تعالیٰ اعلم. ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه په ډیر قوت سره ادعا کوی. چی له دغه آیت څخه مراد هغه لوګی نه دی چی د قیامت له علامو څخه دی. بلکه رسول الله مبارک کله چی د قریشو له تمرد او طغیان څخه په تنګ شو نو دعا ئی وفرمایله چی الله جل جلاله پر دوی تر اووو کلو پوری مسلسل قحط مسلط کړ هم هغسی چی د یوسف علیه السلام په زمانه کښی پر مصریانو مسلط شوی وو لکه چی قحط پر دوی مسلط شو چی مکیانو به په هغه کښی له مردارو او له پوستکو او له هډوکو څخه خوړل غالباً په هم دغه دوران کښی د «یمامه» رئیس ثمامه بن اثال رضی الله تعالیٰ عنه په اسلام سره مشرف شو او د ماکولاتو د هغو ګودامونو لیږل ئی منع کړل چی له هغه ځایه معظمی مکی ته تلل. الغرض مکیان د لوږی له لاسه مړه کیدل. او دغه مسلمه او ښکاره خبره ده چی د مسلسلی وچکالی او قحط په زمانه کښی به د جو یعنی د ځمکی او آسمان په منځ کښی لوګی په شان دوړی او غبار په نظر راځی. او برسیره په دی د اوږده مدت د باران د نه ووریدلو څخه ګردو غبار او دوړی له ځمکی څخه پورته کیږی او د آسمان په لوری د لوګی په شان لوبی او سپیری دوړی تری معلومیږی. چی هغه ئی دلته په «دخان» سره تعبیر فرمایلی دی. په دغه تقریر په «یغشی الناس» کښی به له خلقو څخه مراد مکیان وی. ګواکی دغه یو پخوا ویل ؤ چی پوره شو کما یدل علیه قوله تعالیٰ﴿ فَارْتَقِبْ ﴾

رَبَّنَا اكْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ إِنَّا مُؤْمِنُونَ ﴿١٢﴾

ای ربه زمونږ لری کړه له مونږ دغه عذاب بیشکه مونږ ایمان راوړونکی یو.

**تفسیر :** یعنی کله چی په هغه عذاب کښی مبتلا کیږی نو داسی به وائی چی اوس له دغه آفت څخه نجات راکړه وروسته له دی نه مو توبه ده! اوس مونږ ته پوره یقین حاصل شو. بیا به طغیان او شرارت نه کوو او پاخه مسلمانان کیږو وروسته له دی نه د دغی خبری الله اعظم برهانه واکرم شانه داسی جواب فرمائی:

أَنَّى لَهُمُ الذِّكْرَى وَقَدْ جَاءَهُمْ رَسُولٌ مُّبِينٌ ﴿۱۳﴾ ثُمَّ تَوَلَّوْا عَنْهُ وَقَالُوا مُعَلَّمٌ مَّجْنُونٌ ﴿۱۴﴾

چیرته به نفع ورسوی دوی ته پند اخیستل (پس د عذاب له نزوله) حال دا چی په تحقیق راغلی ؤ دوی ته رسول ښکاره بیانوونکی بیا هم داسی وګرځیدل دوی له هغه (اجابت د رسول نه) او وویل (کفارو) ده ته ښوونه کړی شوه ده (د قرآن له بل چانه) لیونی دی.

**تفسیر :** یعنی اوس له پوهیدلو او له نصیحت څخه د فائدی اخیستلو موقع چیری پاتی ده په هغه وخت کښی مو دغه پندونه ونه منل چی زمونږ رسول سره له ښکاره نښو او واضحه وو هدایاتو درغلی وو هلته به مو داسی ویل چی دغه لیونی دی کله به مو ویل چی دی دغه خبری له بل چا څخه زده کوی او بیا د هغه له مخی دغه کتاب جوړوی د ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه د تفسیر سره سم د دی آیت مطلب داسی شو او د ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه له تفسیر سره موافق معنی به ئی داسی وی چی مکیان له قحط او نورو مصائبو څخه په تنګ شول او له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ئی غوښتنه وکړه چی دغه آفت له مونږ څخه لری کړئ په ځینو روایاتو کښی راغلی دی چی ابوسفیان او نورو مشرکانو د رسول الله په حضور کښی عرض او فریاد وکړ چی تاسی خو فرمائی چی زه رحمة للعالمین یم او دغه دی ستا قوم له قحط او د وچکالی له لاسه تباه او فنا کیږی نو مونږ تاسی ته د مرحمت او شفقت او د قرابت وسائط در وړاندی کوو څو د دغه مصیبت د لری کیدلو دپاره دعاء وکړئ که دغه قحط او مصیبت له مونږ څخه پورته شو نو مونږ تول سره ایمان راوړو لکه چی د دوی په دعاء سره باران وشو او له یمامی څخه د غلی کوم ګودامونه چی منع کړی شوی ؤ هغه هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم له حکم سره سم بیرته جاری شول مګر سره له دی هم دوی مسلمانان نه شول د هم دی په نسبت فرمائی ﴿أَنَّى لَهُمُ الذِّكْرَى﴾ یعنی دغه خلق د دغی خبری له سره منونکی نه دی په دغه قسم شیانو دوی په زرهاؤ تأویلات له خپله ځانه جوړوی هغه شیان چی بیخی لکه د لمر په شان عیان او روښان دی یعنی ستاسی نبوت دوی نه منی او تاسی ته د مجنون نسبت کوی او ځینی داسی وائی چی دی له هغه رومی مریی څخه ځنی خبری زده کوی او بیا ئی پخپل عبارت سره اداء کوی. له داسی متعصبو معاندینو څخه د کوم شی د پوهیدلو څه توقع کیدی شی؟.

إِنَّا كَاشِفُوا الْعَذَابِ قَلِيلًا إِنَّكُمْ عَائِدُونَ ﴿۱۵﴾

بیشکه مونږ لری کوونکی یو د دغه عذاب (په دعاء د نبی) لږ مدت بیشکه

تاسی بیرته گرځیدونکی یئ (کفر خپل ته).

**تفسیر :** یعنی که مونږ د لږ څه مدت له مخی له دوی څخنی عذاب لری کړو دوی به بیا پخپلو هم هغو حرکاتو لاس پوری کوی چی پخوا له دی نه به ئی کول او د ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه له تفسیر سره موافق به ئی داسی مطلب کیږی درواخلئ مونږ د لږ څه مدت له مخی دغه عذاب له دوی څخنی لری کوو تاسی وګورئ چی دوی به په هم هغسی اعمالو مداومت کوی چی پخوا له دی نه هم په هغه کښی مشغول وو.

يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرَىٰ إِنَّا مُنْتَقِمُونَ ⁽١٦⁾

(یاده کره) هغه ورځ چی ویه نیسو مونږ (دغه کفار) په نیولو سختو لویو سره بیشکه مونږ انتقام اخیستونکی یو (په دغه ورځ کښی).

**تفسیر :** د ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه په نزد به لویه نیونه په قیامت کښی وی غرض دا دی چی د آخرت عذاب له سره نه منع او نه بیرته کیدونکی دی. د ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه په نزد له لوئی نیونی څخه د «بدر» غزا مراده ده چی په دغی غزوی کښی له کفارو څخه بدل او انتقام واخیست شو.

وَلَقَدْ فَتَنَّا قَبْلَهُمْ قَوْمَ فِرْعَوْنَ وَجَاءَهُمْ رَسُولٌ كَرِيمٌ ⁽١٧⁾

او خامخا په تحقیق ازمویلی وو مونږ پخوا له دی نه قوم د فرعون او راغلی ؤ دوی ته رسول (موسیٰ) عزتمند (په نزد د الله).

**تفسیر :** یعنی د حضرت موسیٰ علیه السلام په ذریعه د دوی امتحان واخیست شو چی آیا دوی د الله تعالیٰ پیغام قبلوی که نه؟.

أَنْ أَدُّوا إِلَيَّ عِبَادَ اللَّهِ ۖ

(او وویل موسیٰ فرعونیانو ته) چی وسپارئ تاسی په ما باندی بندګان د الله،

**تفسیر :** یعنی د الله تعالیٰ بندګان خپل مریان مه ګرځوئ! بنی اسرائیلو ته له مریتوبه آزادی ورکړئ! او ماته ئی وسپارئ چی هر چیری زما خوښه وی دوی له خپل ځان سره بوځم.

إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٨﴾ وَأَن لَّا تَعْلُوا عَلَى اللَّهِ إِنِّي آتِيكُم بِسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿١٩﴾

بيشكه زه تاسي ته رسول مكرم امانتگر يم او (ووېل موسىٰ فرعونيانو ته) چې سركشي مه كوئ پر الله (په اهانت د وحى) بيشكه چې زه راوړونكى يم تاسي ته د برهان حجت دليل ښكاره واضح.

**تفسير :** «برهان، حجت، دليل ښكاره واضح» هغه معجزات دي چې موسىٰ عليه السلام ښوول لكه عصا يدبيضاء يعني (همسا) او «سپين لاس» او نور.

وَإِنِّي عُذْتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُمْ أَن تَرْجُمُونِ ﴿٢٠﴾

**تفسير :** او ووېل موسىٰ فرعونيانو ته چې بيشكه زه پناه نيسم په رب خپل او په رب ستاسي له دې نه چې سنگسار كړئ تاسي ما.

**تفسير :** په دغه سره ئې د دوى د هغو ويرولو جواب وركړ، يعني ما ستاسي له ظلم او ايذاء څخه د الله تعالىٰ پناه حاصله كړې ده. هغه زما په حمايت كښې دى او د الله تعالىٰ پر حفاظت زه پوره اعتماد او اطمينان لرم.

وَإِن لَّمْ تُؤْمِنُوا لِي فَاعْتَزِلُونِ ﴿٢١﴾

او كه ايمان نه راوړئ تاسي (اى فرعونيانو!) پر ما پس په څنگ شئ (له ما پرېږدئ ما).

**تفسير :** يعني كه زما خبره نه منئ نو اقلا ماته څه ضرر او ايذاء مه رسوئ! او په دغه سره خپل جرم مه درنوئ.

خير نه دى بى هيلى يم　　　　شر دى رانه لرى كړه!

حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليكي «يعني چې خپل قوم بوځم ته مې ليارِه مه نيسه!»

فَدَعَا رَبَّهُ أَنَّ هَٰؤُلَاءِ قَوْمٌ مُّجْرِمُونَ ﴿٢٢﴾ فَأَسْرِ بِعِبَادِي لَيْلًا إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ﴿٢٣﴾

پس دعاء وکړه (موسیٰ) رب خپل ته داسې چې بیشکه دغه (قبطیان) یو قوم دی ګنهګاران (کافران). (نو وفرمایل الله موسیٰ ته چې) پس بوځه بندګان زما (سبطیان) د شپې بیشکه تاسې متبوع یئ (د قبطیانو).

**تفسیر** : یعنی بالاخر مجبور شو او د الله تعالیٰ په حضور کښې ئې عرض او فریاد وکړ چې دغه خلق له خپلو جرائمو څخه لاس اخیستونکې نه دی نو اوس ته زمونږ او د دوی په منځ کښې فیصله وکړه! د ده دعاء فوراً مستجابه او پر حضرت موسیٰ علیه السلام امر وشو چې بې د فرعونیانو له اطلاعه له بني اسرآئیلو سره د شپې له مخې له مصره ووځئ! ځکه چې د ګهیځ (سحر) له مخې به دوی وروسته له دی نه چې ستاسې له تګه خبر شی نو د تاسې د تعاقب دپاره درپسې وځی لیکن په یاد ئې ولرئ چې په لیاره کښې ستاسې په مخ کښې تریخ سیند درځی چې هغه به ستا د همسا په اشاره سره دی خوا او هغې خوا لرې کیږی او په منځ کښې وچه صافه لیاره تاسې ته پیدا کیږی چې ته به سره له خپل قومه له هم هغې لیارې تیریږئ.

وَاتْرُكِ الْبَحْرَ رَهْوًا ۗ إِنَّهُمْ جُندٌ مُّغْرَقُونَ ﴿٢٤﴾

او پرېږده بحر سیند ولاړ (ساکن کوڅې کوڅې) بیشکه دوی لښکری دی ډوبې کړی شوی.

**تفسیر** : یعنی د دغې خبرې په فکر او اندیښنې کښې مه اوسه! دغه لیاره چې د الله تعالیٰ په قدرت په دغه سیند کښې شوی ده بیرته پاتې نشې پرېږده چې دغه لیاره هم دغسې پر خپل حال پاتې وی څو فرعون او فرعونیان ئې وګوری او پر تاسې پسې د راتلو همت او ځغرد (جراءت) وکړی، لکه چې هغوی هم په هم دغې وچې کښې ننوتل، کله چې تول د سیند منځ ته ورسیدل، دلته الله تعالیٰ د سمندر اوبو ته حکم ورکړ چې بیا سره یو ځای شی، او په دغه ترتیب سره هغه ګرد (تول) لاؤ لښکر ډوب او مغروق کړ. نو فرمائی الله اکرم شانه واعظم برهانه چې:

كَمْ تَرَكُوا مِن جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿٢٥﴾ وَزُرُوعٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴿٢٦﴾
وَنَعْمَةٍ كَانُوا فِيهَا فَاكِهِينَ ﴿٢٧﴾ كَذَٰلِكَ ۖ وَأَوْرَثْنَاهَا قَوْمًا آخَرِينَ ﴿٢٨﴾

څومره ډیر پرېښودل دوی له باغونو او (له) چینو (د اوبو) او (له) فصلونو او ځایونه عمده مخصوص ښائسته او (له) نعمتونو (او له هسې د هوسائی

(آرام) سامان) په هغو (نعمتونو) كښې خوشال خوندور. هم داسې (هلاک كوو مونږ له مكذبينو) او په ميراث مو وركړل (دغه شيان) قوم بل (سبطيانو) ته.

**تفسير :** يعني د بنى اسرآئيلو په لاسونو كښې ئې وركړ، لكه چې د «شعرآء» په سورت كښې دى له دى نه معلوم شو چې د فرعون د غرقيدلو څخه وروسته د بنى اسرآئيلو تصرفات او مداخله په مصر كښې شروع شوله او كه دغه ثابت نشى مطلب به ئې داسې وى د هم هغو اقسامو سامانونو په شان چې له فرعونيانو څخه پاتې وو هم هغسې شيان مونږ بنى اسرآئيلو ته هم وركړل والله اعلم.

فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَآءُ وَالْأَرْضُ

پس ونه ژړل پر دوى (يا پر هلاک د دوى) باندې آسمانونو او ځمكې.

**تفسير :** په رواياتو كښې راغلى دى چې د مؤمن د وفات په تقريب كښې د آسمان هغه دروازه ژاړى چې له هغې څخه به ده ته روزى نازليده يا هغه دروازه چې په هغې كښې د ده صالح عمل پورته ختوت او هغه ځمكه به هم ژاړى چې ده به پرې لمونځ كاوه يعني افسوس چې هغه سعادت له مونږ ځنې واخيست شو كله چې له كفارو سره د صالح عمل تخم نشته نو په ده پسې به آسمان يا ځمكه ولې ژاړى؟ بلكه ممكن دى چې د دوى پر مرګ خوښ هم شي چې ښه شو چې دغه يوه بلا له دنيا وركه شوه.

وَمَا كَانُوا مُنظَرِينَ ﴿٢٩﴾ وَلَقَدْ نَجَّيْنَا بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ مِنَ الْعَذَابِ الْمُهِينِ ﴿٣٠﴾ مِن فِرْعَوْنَ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَالِيًا مِّنَ الْمُسْرِفِينَ ﴿٣١﴾ وَلَقَدِ اخْتَرْنَٰهُمْ عَلَىٰ عِلْمٍ عَلَى الْعَٰلَمِينَ ﴿٣٢﴾

او نه وو دوى مهلت وركړى شوى. او خامخا په تحقيق نجات مو وركړ بنى اسرايلو ته له عذاب سپكوونكى (د قبطيانو). چې له (طرفه د) فرعون وو (چې مجسم مصيبت او آفت وو) بيشكه دغه (فرعون) وو سركشه متكبر له مسرفينو له حده تيريدونكى سر غړوونكى (په شرک كښې) او خامخا په تحقيق غوره كړى مو وو دغه (بنىٓ اسرآئيل) په علم خپل پر خلقو (د زمانى د دوى).

**تفسیر :** یعنی اگر که د بنی اسرآئیلو کمزوری او نواقص هم مونږ ته معلوم وو خو سره له هغه مونږ دوی ته د هغی زمانی پر گردو (تولو) خلقو فضیلت ورکړ او ځینی جزئیه فضائل خو هم هغه دی چی تر نن پوری د بل هیڅ قوم په برخه نه دی شوی مثلاً د ډیرو انبیاو په دوی کښی مبعوثیدل.

وَاٰتَيْنٰهُمْ مِّنَ الْاٰيٰتِ مَا فِيْهِ بَلٰٓؤٌا مُّبِيْنٌ ﴿۳۳﴾

او ور مو کړ دوی ته له دلائلو (د قدرت خپل په لاس د موسیٰ) هغه (نعمت) چی په هغو کښی ازمائش مدد ۋ ښکاره.

**تفسیر :** یعنی د حضرت موسیٰ علیه السلام په ذریعه مثلاً د «من او سلویٰ» نزول د وریځو سیوری غورځول وغیر ذلک.

اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ لَيَقُوْلُوْنَ ﴿۳۴﴾ اِنْ هِيَ اِلَّا مَوْتَتُنَا الْاُوْلٰى وَمَا نَحْنُ بِمُنْشَرِيْنَ ﴿۳۵﴾

بیشکه دغه (کفار) خامخا وائی چی نه دی دغه عاقبت زمونږ مگر هم دا ړومبی مرگ زمونږ دی (په دنیا کښی) او نه یو مونږ راپورته کړی شوی (له قبورو).

**تفسیر :** په منځ کښی د حضرت موسیٰ علیه السلام د قوم ذکر استطراداً راغلی وو، له دی ځایه بیا د رسول الله د قوم تذکره شروع کیږی. یعنی دوی وائی چی زمونږ اخری حالت فقط هم دغه دی چی موت پر مونږ راځی هر کله چی مړه شو نو وروسته له مرگه بیا نو نوری خبری اتری له سره نه دی پیښیدونکی. او له موجوده ژوندون څخه ما سواء بل ژوندون بیخی نشته حشر او نشر ثواب او عقاب څه شی دی؟ او حساب او کتاب چیری کیږی؟

فَاْتُوْا بِاٰبَآئِنَآ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۳۶﴾

پس (ژوندی) راولئ پلرونه زمونږ که چیری یئ تاسی صادقین رښتینی (په دغی وینا خپله کښی).

**تفسیر :** یعنی رسول الله مبارک او مؤمنانو ته کفار وائی که تاسی پخپلی دغی وینا کښی

يېږ او دغه عقيده مو صحيحه وى چې وروسته له مرګه بيا ژوندون هم شته. نو ډيره ښه ده تاسى خو زمونږ دغه مړه شوى پلرونه او نيكه ګان راژوندى كړئ چې مونږ ئې پخپلو ستر ګو سره ووينو او په كيفيت ئې وپوهيږو.

أَهُمْ خَيْرٌ أَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ

(نو فرمائى الله چې) آيا دغه (قريش) غوره دى (په مال او قوت كښې) كه قوم د «تبع»؟

**تفسير :** «تبع» د يمن د باچا لقب وو چې د ده حكومت پر سبا، حضر موت او نورو تولو وو «تبع» ډير تير شوى دى الله تعالىٰ ښه عالم دى چې دلته ترى كوم يو مراد دى؟ په هر حال دومره ترى ظاهر شو چې دغه قوم د ډير قوت او قدرت خاوندان وو چې د خپل طغيان او تمرد په سبب هلاک او تباه شو. ابن كثير رحمة الله عليه له دغه قوم څخه د سبا قوم مرادوى چې د هغه ذكر د سبا په سورت كښې تير شوى دى. والله اعلم.

وَالَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ أَهْلَكْنَاهُمْ إِنَّهُمْ كَانُوا مُجْرِمِينَ ﴿٣٧﴾

او هغه كسان چې پخوا تير شوى وو له دغو (قوم د تبع لكه عاد او ثمود بلكه قوى نه وو په مال او قوت نو سره له هغه هم) هلاک كړل مونږ دوى بيشكه دوى وو ګنهګاران (كافران منكران له بعثه او له قيامته)

**تفسير :** مثلاً عاد او ثمود او نور. الله تعالىٰ دغه تول د دوى د ګناهونو په بدل هلاک او تباه كړل، آيا تاسى له دوى نه بهتر زيات زورور طاقتور يئ چې نه مو هلاكوى؟ يا مو نه شى هلاكولى؟

وَمَا خَلَقْنَا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لَاعِبِينَ ﴿٣٨﴾ مَا خَلَقْنَاهُمَا إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٩﴾

او نه دى پيدا كړى مونږ آسمانونه او ځمكه او تول هغه شيان چې په منځ د دغو دواړو كښې دى حال دا چې لوبى كوونكى يو (يعنى عبث) نه دى پيدا

کړی مونږ دغه دواړه مگر په حقه سره ولیکن زیاتره د دغو (مشرکانو) نه پوهیږی (په دی چی فعل د حکیم هیچیری له حکمته خالی نه وی).

**تفسير :** یعنی نه می دی پیدا کړی دغه تول علویات او سفلیات بی مطلب او عبث، او دغه لویه کارخانه د څه لوبو او تماشو دپاره نه ده جوړه شوی بلکه په دیر لوی حکمت سره پیدا کړی شوی ده چی د هغی نتیجه ضرور یوه ورځ څرگندیږی (ښکاره کیږی) چی هم دغه نتیجه آخرت دی.

إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ مِيقَاتُهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٤٠﴾ يَوْمَ لَا يُغْنِي مَوْلًى عَن مَّوْلًى شَيْئًا وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴿٤١﴾ إِلَّا مَن رَّحِمَ اللَّهُ إِنَّهُ هُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿٤٢﴾

بیشکه ورځ د فیصلی (قیامت په منځ د خلقو کښی) وعده (د جمع کولو) د دوی ده د تولو (چی په دغه ورځ کښی د تولو حساب په یوه وخت کښی کیږی). هغه ورځ چی دفع به نشی کولی هیڅ دوست خپلوان له دوست خپل څخه هیڅ شی (له عذابه) او نه به له دوی سره (له کوم طرفه) مدد وکړی شی (او نه مرسته (مدد) رسیدی شی) مگر هغه څوک چی رحم پری وکړی الله (چی مومنان دی) بیشکه الله هم دی دی ښه غالب قوی (په انفاذ د احکامو) دیر رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره).

**تفسير :** یعنی بس پر هم هغه چا چی الله تعالیٰ رحمت وکړی هم هغه به نجات مومی کما ورد فی الحدیث «الا ان یتغمدنی الله برحمته».

إِنَّ شَجَرَتَ الزَّقُّومِ ﴿٤٣﴾ طَعَامُ الْأَثِيمِ ﴿٤٤﴾

بیشکه (میوه د) ونی د زقوم طعام خواړه د (دیر لویو) گنهگارانو (کافرانو) دی.

**تفسير :** یعنی د کومی ادنیٰ مشابهت لامله (له وجی) ورته «زقوم» چی په اردو ورته (سیهند) وائی ویلی شوی دی که نه د دوزخ د زقوم کیفیت خاص الله ته معلوم دی لکه چی د جنت ځینی نعمتونه له دنیوی نعمتونو سره اسم اشتراک لری هم داسی د دوزخ په نسبت هم وپوهیږئ.

كَالْمُهْلِ ۚ يَغْلِي فِي الْبُطُونِ ﴿٤٥﴾ كَغَلْيِ الْحَمِيمِ ﴿٤٦﴾ خُذُوهُ
فَاعْتِلُوهُ إِلَىٰ سَوَاءِ الْجَحِيمِ ﴿٤٧﴾

په شان د مس (او ژیړ) ویلی کړی شوی (توری ختی د تیلو) چې ایشیږی په
ګېډو کښې په شان د ایشیدلو اوبو خوتیدونکیو (وبه فرمائی الله خازنانو د
دوزخ ته چې) ونیسئ دی پس راکاږئ دی برابر منځ د دوزخ ته.

**تفسیر** : دغه د «خذوه» حکم به هغو پرښتو ته کیږی چې د مجرمینو په تعذیب ماموری دی.

ثُمَّ صُبُّوا فَوْقَ رَأْسِهِ مِنْ عَذَابِ الْحَمِيمِ ﴿٤٨﴾

بیا ورتوئی کړئ پاس پر سر د ده له عذابه د ایشیدلو اوبو

**تفسیر** : دغه اوبه به د پوزو او دماغو له لیاری د دوی ګیډو ته ننوځی او د دوی کلمی پری
کوی او د هغو توتی د باندی لویږی (اعاذنا الله منه!)

ذُقْ إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْكَرِيمُ ﴿٤٩﴾

(وبه ویل شی ده لره) وڅکه (دغه عذاب) بیشکه ته هم دغه ته عزتمن غت
مشر (کافر) وی (په زعم خپل).

**تفسیر** : یعنی ته خو هم هغه ئی چې په دنیا کښې ځان لوی معزز او مکرم ګڼانه او خپل
مشرتوب او سرداری به دی ثابتوله اوس دی هغه مشرتوب چیری لاړ؟.

إِنَّ هَٰذَا مَا كُنْتُمْ بِهِ تَمْتَرُونَ ﴿٥٠﴾

بیشکه چې دغه عذاب هغه دی چې وئ تاسی چې په ده کښې به مو شک
کاوه.

**تفسیر** : یعنی تاسی کله داسی یقین او باور درلود (لرلو) چې له دغه ورځی سره به مخامخ
کیږئ تاسی په دغه شک او شبهه کښې وئ چې فقط مونږ هم دلته لوبی او چرچی کوو، او په هم

دغی مشغولتیا کښې خپل عمر تیروو. کله چې مړه شو. نو له خاورو سره ګډود کیږی، او وروسته له هغه بل هیڅ شی پر موږ نه دی راتلونکی اوس خو مو پخپلو سترګو ولیدی چې هغه تولی خبری رښتیا وی چې انبیاء علیهم السلام به د هغو بیان تاسی ته کاوه.

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٍ ﴿٥١﴾

بیشکه چې متقیان به په ځای د امن کښې وی (له تولو مکروهاتو).

تفسیر : یعنی هغه کسان چې دلته له الله تعالیٰ څخه ویریږی هلته به داده هوسا (آرام) او مطمئن اوسیږی او هیڅ دول (طریقه) خوف او غم به دوی ته نه رسیږی.

فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿٥٢﴾ يَلْبَسُونَ مِن سُندُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ مُّتَقَابِلِينَ ﴿٥٣﴾

په جنتونو او چینو کښې چې اغوندی به (دوی جامی) له وریښمو نازکو او له وریښمو پیړو (غتو) په دی حال کښې چې سره مخامخ به ناست وی.

تفسیر : یعنی د دوی پوښاک (لباس) به له نریو او پریړو وریښمینو کالیو (کپړو) څخه وی او یو جنتی به له بل جنتی څخه له سره اعراض نه کوی او مخ به تری نه اړوی او بی تکلفه لکه دیر خواږه دوستان خپلوان به سره مخامخ کیني او خبری اتری به سره کوی.

كَذَٰلِكَ وَزَوَّجْنَاهُم بِحُورٍ عِينٍ ﴿٥٤﴾

هم داسی به وی (بی تغیره او بی تبدیلی) او ملګری به کړو موږ دوی له پیغلو سپینو پوستو غتو (ښایسته) سترګو سره.

تفسیر : یعنی له دوی سره به د دوی جوړی (ښځی) یو ځای کوی.

يَدْعُونَ فِيهَا بِكُلِّ فَاكِهَةٍ آمِنِينَ ﴿٥٥﴾

غواړی به دوی په دغه (جنت) کښې له هر قسم میوی حال دا چې په امن کښې به وی له (انقطاع او ضرر د میوو او هر مکروه نه)

**تفسير :** يعني هره هغه ميوه چې د دوی په زړه کښې وګرځي او دوی ئې وغواړي فوراً دوی ته ورحاضرولے کيږي او هيڅ يو فکر او انديښنه به له دوی سره نوی په پوره زړه جمعي او اطمينان سره به ئې خوري او څښي او مسرور به اوسيږي.

لَا يَذُوقُونَ فِيهَا الْمَوْتَ إِلَّا الْمَوْتَةَ الْأُولَىٰ ۖ

نه به څکي دوی په دغه جنت کښې مرګ مګر خو هغه مرګ ړومبنی (چې تير شوی دی په دنيا کښې).

**تفسير :** يعني هغه موت چې پخوا له دی نه راغلي وو اوس وروسته له دی نه به له سره مرګ او درد تاسي ته نه راځي دائم به په هم دغه عيش او نشاط کښې خوښ او خوشال اوسيږئ چې نه ستاسي خوندور ژوندون ته څه فناء او زوال رسيږي، او نه د هغه وسائلو او وسائطو ته.

وَوَقَاهُمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ ﴿٥٦﴾ فَضْلًا مِّن رَّبِّكَ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿٥٧﴾

او وبه ساتي (الله) دوی له عذابه د دوزخ نه له جهته د فضل له طرفه د رب ستا، دغه (انعام او اکرام) هم دا بری دی ډير لوی.

**تفسير :** يعني له دی نه به بل لوی بری او کاميابی څه شی کيدی شی چې د الله تعالیٰ له عذابه محفوظ او مأمون پاتې وی او تر ابدالاباد پوری د الطافو او افضالو مورد ګرځي!.

فَإِنَّمَا يَسَّرْنَاهُ بِلِسَانِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٥٨﴾

پس بيشکه هم دا خبره ده چې آسان کړی مو دی دغه (قرآن) په ژبه ستا دپاره د دی چې دوی پند واخلي (ښه وپوهيږي او ايمان پری راوړی).

**تفسير :** يعني پخپلې مورنی ژبې سره به اساني پری پوهيږي او ياد ئې کړی.

فَارْتَقِبْ إِنَّهُم مُّرْتَقِبُونَ ﴿٥٩﴾ ع

پس منتظر اوسه ته (هلاک د دوی ته) بیشکه دوی هم منتظر دی (هلاک د تاته).

**تفسیر :** یعنی که دوی ونه پوهیږی نو تاسی څو ورځی انتظار وکړئ د دوی بد انجام د دوی په مخ کښی راتلونکی دی. دوی خو د دغی خبری په انتظار کښی دی که کومه بده پیښه پر تاسی واقعه شی. لیکن تاسی هم د دوی اخری خاتمی ته وګوری، چی هغوی ته څه څه شیان ور د مخه کیدونکی دی؟.

## تمت سورة الدخان بفضل الله تعالیٰ فلله الحمد والمنة

سورة الجاثية مكية الا آية (١٤) فمدنية وهی سبع و ثلاثون آية و اربع ركوعات.
رقم تلاوتها (٤٥) تسلسلها حسب النزول (٦٥) نزلت بعد سورة الدخان.

د الجاثية» سورت مکی دی پرته (علاوه) له (١٤) آیتونو څخه چی مدنی دی (٣٧) آیت (٤) رکوع لری په تلاوت کښی
(٤٥) او په نزول کښی (٦٥) سورت دی وروسته د «الدخان» له سورت څخه نازل شوی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

حٰمٓ ۝١ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ۝٢ اِنَّ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لَاٰيٰتٍ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۝٣

نازلیدل د کتاب له طرفه د الله دی چی ډیر غالب قوی دی ښه حکمت والا دی. بیشکه په (پیدایښت د) آسمانونو کښی او په ځمکی کښی خامخا ډیر دلائل (د قدرت) دی مؤمنانو ته.

**تفسیر :** یعنی که انسان ومنی نو په هم دغه د ځمکی او د آسمانونو په پیدا کولو او د دوی په دغه منظم او محکم نظام او قوام کښی له غور او فکر کولو څخه پر دغه خبره په ښه شان سره

پوهيدى شي چي خامخا د دغو علويه وو او سفليه وو موجوداتو داسي پيدا كوونكي او ساتونكى شته چي دغه ئي پخپل كامل قدرت او حكمت سره په دغسي محاسن او مزايا سره جوړه كړى دى او پخپل لامحدود قدرت سره د هغه حفاظت هم كوى.

**«البعرة تدل على البعير، وأثر الأقدام تدل على المسير، فكيف لا يدل هذا النظام العجيب الغريب على الصانع اللطيف الخبير»**

وَفِي خَلْقِكُمْ وَمَا يَبُثُّ مِن دَابَّةٍ ءَايَاتٌ لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ ﴿٤﴾

او په پيدا كولو (د هر يوه) ستاسى كښى او په هغه څه كښى چي خواره (تيت) كړى دى (الله په ځمكه كښى) له هر قسم دابى (خوځيدونكيو) ډير دلائل (د قدرت او استدلال) دى دپاره (د هغه) قوم چي يقين كوى (پر بعث باندى).

**تفسير :** يعنى كه انسان پخپل خلقت او د نورو ساكښانو (جاندارو) او ذوى الارواحو په خلقت كښى غور او فكر وكړى نو د عرفان او ايقان تر درجو پورى رسوونكى په زرهاو دلائل او نښى په نظر ورځى چي هر يو ئي لوى برهان او قوى استدلال دى په وجود د الله العالمين.

وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَمَا أَنزَلَ اللَّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِن رِّزْقٍ

او په اختلاف د شپى او د ورځى (په تياره او رڼا، تزئيد او تنقيص او نورو كښى) او په هغه كښى چي نازل كړى دى الله له (له طرفه د) آسمان له (اسباب د) رزق (باران، حرارت).

**تفسير :** يعنى اوبه ئى د آسمانه له طرفه رانازلى كړى چي د رزق او روزى ماده ده.

فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ ءَايَاتٌ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٥﴾

پس (الله) ژوندى كړى ده په دى (اوبو) سره ځمكه پس له مرګه (وچوالى) د هغى او په بدلولو د بادونو (په يو قسم بل قسم سره) دلائل (د قدرت) دى دپاره د (هغه) قوم چي عقل چلوى.

**تفسير :** يعنى كه لږ څه هم له پوه او عقل څخه كار واخلئ نو دغه درمعلوميږى چي دغه امور

پرته (علاوه) د هغه زبردست قادر او حکیم له قوته او قدرته د بل هیچا په واک (قبضه) او اختیار کښې نشته. لکه چې پخوا له دی نه په ځو ځو ځایونو کښې د دی مفصل تقریر لیکلی دی.

---

تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ۚ فَبِاَيِّ حَدِيْثٍۭ بَعْدَ اللّٰهِ وَاٰيٰتِهٖ يُؤْمِنُوْنَ ۝۶

---

دغه (علامې د قدرت لوی) دلائل (د قدرت) د الله دی چې لولو ئې مونږ په تا باندې په حقه سره پس پر کومه یوه خبره پس له (خبرې) د الله (قرآن) او پس له دلایلو (د قدرت) د الله ایمان به راوړی دوی؟ (بلکه نه ئې راوړی).

---

**تفسیر :** یعنې له ما سواء الله څخه بل کوم شی د بندګۍ او عبادت وړ (لائق) او مستحق دی؟ او بغیر د الله له خبرو څنې بل کوم کلام د آوریدلو او منلو قابل دی؟ کله چې د داسې لوی مالک داسې رښتیا او صافې او سمې خبرې هم کوم بد بخت نه قبلوی نو بالاخر دوی د کوم شی په انتظار کښې دی چې هغه به بیا منی.؟

---

وَيْلٌ لِّكُلِّ اَفَّاكٍ اَثِيْمٍ ۝۷ يَّسْمَعُ اٰيٰتِ اللّٰهِ تُتْلٰى عَلَيْهِ ثُمَّ يُصِرُّ مُسْتَكْبِرًا كَاَنْ لَّمْ يَسْمَعْهَا ۚ

---

خرابی هلاک افسوس دی هر دروغ تړونکی ګنهګار ته چې آوری آیتونه (د قدرت د) الله چې لوستل کیږی پر ده بیا لا ښه کلک شی (په کفر خپل) په دی حال کښې چې متکبر (ګرځیدونکی وی له ایمانه) دی لکه چې ئې نه دی آوریدلی هغه (آیتونه).

---

**تفسیر :** یعنې د ضد او غرور له سببه د الله تعالیٰ خبرې نه اوری او تکبر او لوئی ورته اجازه نه ورکوی چې له خپل جهالت او حماقت څخه لاس واخلی کله چې حقه او رښتیا خبره آوری داسې تری مخ اړوی لکه چې له سره ئې نه وی آوریدلی.

فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ⑧ وَإِذَا عَلِمَ مِنْ آيَاتِنَا شَيْئًا اتَّخَذَهَا هُزُوًا ۚ
أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُهِينٌ ⑨

پس زیری ورکړه ده ته په عذاب دردناک سره. او کله چی پوه شی له آیتونو (د قرآن) زمونږ پر یوه څه شی نو نیسی ئی په توکو او مسخرو دغه (دروغجنان متکبران مسخره کوونکی) شته دوی ته عذاب سپکوونکی.

**تفسیر :** یعنی څرنګه چی دوی له آیات الله سره د اهانت او استخفاف معامله کوی نو د هغه سزاوی به هم دوی ته سره له سخت اهانت او ذلت وررسیږی چی ذکر ئی دغه دی.

مِنْ وَرَائِهِمْ جَهَنَّمُ ۖ وَلَا يُغْنِي عَنْهُمْ مَا كَسَبُوا شَيْئًا وَلَا مَا اتَّخَذُوا
مِنْ دُونِ اللَّهِ أَوْلِيَاءَ ۖ

وروسته له (مرګه) د دوی دوزخ دی او دفعه به نه کړی له دوی نه هغه څیز چی کسب کړی وی دوی هیڅ څیز (له عذابه) او نه (به دفعه کوی) هغه بتان چی نیولی دی دوی بی له الله دوستان (معبودان).

**تفسیر :** یعنی اموال او اولاد او نور شیان به سره هلته په کار ورنشی، او نه هغه شیان په کار ورځی چی هغوی له ماسواء الله څخه معبودان دوستان او رفیقان ګرځولی شوی وو او له هغوی څخه ئی د ډیر امداد او اعانت توقعات هم درلودل (لرل).

وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ⑩ هَٰذَا هُدًى ۖ وَالَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ لَهُمْ
عَذَابٌ مِنْ رِجْزٍ أَلِيمٌ ⑪

او شته دوی ته عذاب ډیر لوی (د دوزخ). دغه (قرآن کامل) هدایت دی او هغه کسان چی کافران شوی دی په آیتونو د رب خپل شته دوی ته عذاب له (هغه ډیر سخت) عذاب درد رسوونکی نه.

**تفسير :** يعني دغه لوى عظيم‌الشان برکت او ستر هدايت دى چى د هر راز (قسم) ښو او بدو لياری او چاری انسانانو ته ښيى، هر هغه څوک چى د دغه لوى قرآن احکام او بيان نه منى او هغه دى خپل ځان د ډير سخت غليظ او دردناک عذاب ګاللو (برداشت کولو) دپاره آماده او تيار کړى!.

اَللّٰهُ الَّذِيْ سَخَّرَ لَكُمُ الْبَحْرَ لِتَجْرِيَ الْفُلْكُ فِيْهِ بِأَمْرِهٖ

الله هغه (ذات) دى چى مسخر (تابع) کړى ئى دى تاسى ته بحر سيند دپاره د دى چى ګرځى بيړى په دغه (بحر) کښى په امر حکم د الله سره.

**تفسير :** يعني د سمندر په شان مخلوق مو تاسى ته داسى تابع او مسخر ګرځولى دى چى تاسى بلا تکلفه د خپلو بيړيو او جهازونو په وسيله پرى ګرځئ! او له ميلونو ميلونو ژورو (ډوبو) اوبو له پاسه پرى تيريږئ او له يوى وچى څخه بلى وچى ته پرى رسيږئ!.

وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۲﴾

او دپاره د دى چى طلب کوئ تاسى له فضله د الله او دپاره د دى چى شکر ئى وباسئ.

**تفسير :** يعني بحرى تجارت وکړئ!، يا ښکار وکړئ!، يا د ده له منځه مرغلرى او نور شيان وباسئ! او د دغو ګردو (ټولو) منافعو او فوائدو د حاصلولو په وخت کښى هغه حقيقى منعم مه هيروئ! او د ده حق اداء کړئ او قدر ئى په ښه شان سره وپيژنئ! او په ژبه او زړه او قلب او قالب سره ئى شکريه اداء کړئ!.

وَسَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا مِّنْهُ ؕ

او په کار لګولى مسخر کړى ئى دى تاسى ته هر هغه شيان چى په آسمانونو کښى دى (لکه لمر قمر نجوم) او هر هغه شيان چى په ځمکه کښى دى (لکه اوبه خاوره او حيوانات او نور) ټول (مسخر) له (طرفه د) الله (دى).

**تفسير :** يعني پخپل حکم او قدرت سره ئى دغه ګرد (ټول) شيان ستاسى په کار کښى لګولى دى. دغه د الله تعالیٰ لويه مهربانى او فضل دى چى دغسى عظيم الشان مخلوقات ئى د انسانانو

د خدمت، منفعت او چرچو دپاره په کار کښې لګولی دی.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿١٣﴾

بیشکه په دغه (تسخیر) کښې خامخا لوی دلائل (د قدرت) دی دپاره د هغه قوم چې فکر کوی (په دغو مخلوقاتو کښې).

**تفسیر :** که انسان فکر او غور وکړی نو پوهیدلی شی چې دغه شی د ده له توانه، قوته او قدرته وتلی وو، محض د الله تعالیٰ په فضل او د ده د کامل قدرت په برکت دغه ګرد (تول) شیان زمونږ په کارونو کښې بوخت (مشغول) او لګیا دی. نو لامحاله زمونږ دپاره هم دغه کار په کار دی چې په کوم کار کښې مشغول او لګیا شو. او هغه کار هم دا دی چې خپل عمر د هغه حقیقی منعم او علی‌الاطلاق محسن په عبادت او اطاعت کښې تیر کړو چې زمونږ خالق او مالک دی او پخپل مستعار حیات کښې یوه شیبه هم د الله تعالیٰ له یاده غافل نشو څو په هغه سره زمونږ عاقبت مسعود شی.

قُل لِّلَّذِينَ آمَنُوا يَغْفِرُوا لِلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ أَيَّامَ اللَّهِ

ووایه (ای محمده!) هغو کسانو ته چې ایمان ئی راوړی دی چې مغفرت (ښښنه) وکړی (د آزار) هغو کسانو ته چې امید نه لری د ورځو (وقائعو حوادثو) د الله.

**تفسیر :** له «ایام الله» یعنی د الله له ورځو څخه هغه ورځې مراد دی چې په هغو کښې الله تعالیٰ خپلو دښمنانو ته کومه خاصه سزا ورکړی یا پر خپلو بندګانو کوم مخصوص انعام او اکرام ابذال او احسان وکړی لهٰذا له ﴿قُل لِّلَّذِينَ آمَنُوا يَغْفِرُوا لِلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ أَيَّامَ اللَّهِ﴾ څخه هغه کفار مراد دی چې د الله تعالیٰ له رحمت څخه بیخی ناامیده او د ده له عذابه بیخی بی فکره وی.

لِيَجْزِيَ قَوْمًا بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿١٤﴾

دپاره د دی چې جزاء ورکړی (الله) هغه قوم ته پر هغه چې وو دوی چې کسب کول به ئی.

**تفسیر :** یعنی ای مسلمانانو تاسی د دوی د بدل او انتقام اخیستلو په فکر کښې مه اوسئ! د

هغوی معامله پاک الله ته وسپارئ! هغه پخپله دوی ته د دوی پر شرارتونو کافي او پوره سزا ورکوی او د مؤمنینو د صبر، تحمل عفوی او تیریدلو مناسبه صله هم ورکوی.

مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ اَسَآءَ فَعَلَيْهَا ۫

هر هغه څوک چی وکړی (کوم کار) نیک نو (وکړه ده دا کار) دپاره ( د نفع) د ځان خپل او هر هغه څوک (چی وکړی کوم کار) بد پس پر هم ده دی (وبال او ضرر ئی).

**تفسیر :** یعنی د ښو کارونو مناسبه صله هغو کار کوونکیو ته رسیدونکی ده الله تعالیٰ هغه ته هیڅ ضرورت نه لری او بدی کوونکی پخپله په خپل حق کښی خراب تخم شندی او کری ئی او د نقصان په فکر کښی اوسی او هر کار او عمل چی کوی په دغه علم قصد او نیت سره ئی وکړی چی د هغه نفع او نقصان دواړه زما خپل ځان ته رسیدونکی دی.

ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ تُرْجَعُوْنَ ﴿۱۵﴾

بیا خاص رب ستاسی ته به بیول کیږئ (په قیامت کښی لپاره د جزاء د اعمالو).

**تفسیر :** یعنی څه مهال (وخت) چی هلته ورسیږی نو د دوی تول ښیګڼه (فائده) او خرابی د دوی په مخه ورځی او هر یو به د خپلو اعمالو او چارو نتیجه او سزا ومومی او د خپل عمل د میوی خوند به وڅکی.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا بَنِىْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْكِتٰبَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ وَرَزَقْنٰهُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ

او خامخا په تحقیق ورکړی وو مونږ بنی اسرآئیلو (اولادی د یعقوب) ته کتاب (توریت) او حکم (په تورات په مابین د خلقو کښی) او نبوت (موسیٰ او هارون ته له دوی نه) او روزی کړی مو وه دوی ته له څیزونو پاکو حلالو (لکه من او سلویٰ).

**تفسیر :** یعني توریت ئې ورکړ، او سلطنت، یا د فیصلي قوت یا د پوهنې خبرې، یا د دین پوه ئې ورعطا کړه او ډیر زیات انبیاؤ الله ئې په تاسې کښې مبعوث کړل دغه خو روحاني غذا وه که جسماني غذا ته وګورئ هغه ئې هم په کثرت او افراط سره تاسې ته ورعطاء کړې ده تر دې چې «من او سلوٰی» ئې هم پر تاسې نازل کړل.

وَفَضَّلْنٰهُمْ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦﴾

او فضیلت ورکړی وو مونږ دوی ته پر خلقو (د زماني خپلې).

**تفسیر :** یعني د هغې زماني پر ګردو (ټولو) خلقو دوی ته کلي فضیلت حاصل وو او د ځینو جزئیه ؤ فضائلو په اعتبار نو د هغې زماني قید لګولو ته هم دومره ضرورت نه پاتې کیږي.

وَاٰتَيْنٰهُمْ بَيِّنٰتٍ مِّنَ الْاَمْرِ ۚ

او ورکړې وو مونږ دوی ته ښکاره دلائل له امره (له دیني احکامو)

**تفسیر :** یعني نهایت واضح او مفصل احکام، یا ښکاره واضح معجزات چې د دین په باب کښې د حجت او برهان په شان وړاندې کول کیږي.

فَمَا اخْتَلَفُوْٓا اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ ۙ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ؕ اِنَّ رَبَّكَ
يَقْضِيْ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿١٧﴾

پس ونه کړ اختلاف (دوی په امورو د دین کښې) مګر پس له هغه چې راغی دوی ته علم له جهته د هغه ضد او عناد چې وو په منځ د دوی کښې بیشکه رب ستا به حکم وکړي په منځ د دوی (او ستاسې) کښې په ورځ د قیامت په هغه شي کښې چې وو دوی چې په هغه کښې به ئې سره اختلاف کاوه.

**تفسیر :** یعني تاسې له ضده او عناده او له خپل نفسانیته اصلي کتاب پرېښې دی او بیشماره فرقې جوړې شوې دي چې د دوی عملي فیصلې به د قیامت په ورځ کیږي. او هلته به دوی ته ښه

معلوم او دغه پته به ولګیږي چې د دوی منشاء ماسواء د نفس پاللو او هووا او هوس خوښولو بل هیڅ شي نه وو.

ثُمَّ جَعَلْنٰكَ عَلٰى شَرِيْعَةٍ مِّنَ الْاَمْرِ فَاتَّبِعْهَا وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿١٨﴾

بیا مو وګرځولې ته ولاړ پر شریعت ارته لیاره له کاره د دین پس متابعت وکړه د هغه او متابعت مه کوه د آرزوګانو د هغو کسانو چې نه پوهیږي دوی (په حقیقت د توحید).

**تفسیر:** یعني د دغو اختلافاتو او د ګوند (دلی) او ګوندبازي (دله بازۍ) په موجودیت کښې مونږ تاسي د دین په صحیحه لیاري قائم کړئ. نو تاسي ته او ستاسي امت ته لازم دی چې پر دغي سمي صافي برابري لیاري باندي برابر او مستقیم واوسئ! او هیڅ کله په خطاء او تیروتلو سره هم د دغو جاهلانو او ناپوهانو په فکر غوښتنه او خواهشونو مه ځئ مثلاً د دوی غوښتنه داسي ده چې تاسي د دوی د طعن، تشنیع، ظلم او تعدی څخه په تنګ راشئ او د دعوت او تبلیغ له کارونو څخه لاس واخلئ! یا په مسلمانانو کښي هم داسي تفریق او اختلاف ولویږي چې دوی پخپله په هغه کښي اخته او مبتلا دی. په دغه صورت کښي واجب دی چې د دوی دغسي غوښتني بیخي پائمالي او خرابي کړی شي؟.

اِنَّهُمْ لَنْ يُّغْنُوْا عَنْكَ مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ؕ

بیشکه چې دوی له سره به دفعه نه کړي تا له (عذابه د) هیڅ شي،.

**تفسیر :** یعني د دوی په طرف ستاسي متمایل کیدل تاسي ته د الله تعالیٰ په نزد هیڅ په درد نه خوري او په کار نه درځي.

وَاِنَّ الظّٰلِمِيْنَ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ وَاللّٰهُ وَلِيُّ الْمُتَّقِيْنَ ﴿١٩﴾

او بیشکه چې ظالمان ځیني د دوی دوستان (کار جوړونکي) دي د ځینو نورو او الله ولي دوست دی د متقیانو (په اعانت نصرت اثابت سره).

**تفسير :** يعنى منصف او رښتيا خوښوونكى مسلمانان د ظالمانو او بى ليارى كفارو رفيق او ملگرى له سره نشى كيدى. دوى خو د الله تعالىٰ مطيع بندگان دى. او الله تعالىٰ هم د دوى رفيق ناصر او مددگار دى. لازم دى چى دوى پر هغى سمى ليارى لاړ شى او پر هم هغى باندى اعتماد او توكل ولرى.

هٰذَا بَصَآئِرُ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ﴿٢٠﴾

دغه (قرآن) بصيرتونه پندونه دى دپاره د خلقو او هدايت ليار ښوونه دى او رحمت دى دپاره د هغه قوم چى يقين راوړى (پر بعث باندى).

**تفسير :** يعنى دغه قرآن پر ډير بصيرت زياتونكيو حقايقو مشتمل دى خلقو ته د كار ښى خبرى ښيى او د برى او كاميابى ليارى هغوى ته ښيى او هر هغه خوش قسمته او بختور سرى چى پر دغو هداياتو او نصائحو باور او يقين وكرى او په ښه شان سره پرى عامل شى نو د دوى په حق كښى په خصوصى ډول (طريقه) سره دغه قرآن رحمت بركت او لوى نعمت دى.

اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ اجْتَرَحُوا السَّيِّاٰتِ اَنْ نَّجْعَلَهُمْ كَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۙ سَوَآءً مَّحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ ؕ سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ﴿٢١﴾

آيا گمان كوى هغه كسان چى كړئ دى بد كارونه (د شرك او كفر) د دى چى وبه گرځوو مونږ دوى (په آخرت كښى) په شان د هغو كسانو چى ايمان ئى راوړى دى او كړى ئى دى ښه (عملونه) برابر (او يو شانى) به وى ژوندون د دوى او مرگ د دوى (بلكه نه دى برابر) بد دى هغه چى حكم كوى دوى (چى دا برابرى ده).

**تفسير :** يعنى د الله تعالىٰ د حكمت پر شؤن له نظر اچولو څخه آيا كوم عاقل داسى اټكل او گمان كولى شى چى له يو بد عمله او له يوه صالح انسان سره به رب المنان ځرنگه يو شان معامله وكړى او د دغو دواړو آخره خاتمه به څنگه سره برابره كړى؟ داسى له سره كيدونكى نه دى نه دغه دواړه به دغه ژوندون كښى سره يو شان دى او نه به له مړ كيدلو څخه وروسته برخه كيږى او هغه د علو، نصرت، رفعت او مغفرت وعدى چى دلته ورسره كړى شوى دى هغه د يوه بدكار كافر په برخه كله كيدى شى. د كفارو دپاره د دغى دنيا په ژوندانه كښى د «معيشة

ضنک » او په عقبیٰ کښې پرته (علاوه) له لعنت او خسران بل شي نشته. الغرض دغه دعوی بیخي غلطه او دغه خیال بالکل چتی (بیکاره) او مهمل دی چي الله تعالیٰ به د نیکانو او بدانو موت او حیات سره یو شان کوی. د الله تعالیٰ د حکمت مقتضا له سره داسې نه ده بلکه ضرور د ده مصلحت او معدلت د هغو دواړو د اعمالو جزاء او سزا په پوره او کامل صورت سره ورکړی او ډیر صحیحه او درسته نتیجه به تری څرګندوی (ښکاره کوی) . او د هر یوه د نیکی او د بدی فی‌الجمله څینې آثار هم دلته هم ظاهروی مګر د هغوی پوره مشاهده او معائنه وروسته له مرګه کیږی.

---

وَخَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ وَلِتُجْزٰی كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿٢٢﴾

---

او پیدا کړی دی الله آسمانونه او ځمکه په حقه سره (لکه چې مناسب وو) او دپاره د دی چې جزاء ورکړه شي هر نفس ته په هغه عمل سره چې کړی ئی وی او پر دوی به ظلم ونه کړی شي (په تزئید د سیئاتو یا تنقیص د حسناتو).

---

**تفسير** : یعنی ځمکه او آسمانونه ئی هم داسې خوشي او چتی (بیکاره) نه دی پیدا کړی، بلکه په نهایت حکمت سره ئی د کوم خاص مقصد او مصلحت دپاره پیدا کړی دی څو مخلوق د هغو پر احوالو غور او دقت وکړی چې کوم شیان ئی جوړ کړی په ښه ډول (طریقه) او ښه حکمت او اتقان سره ئی پیدا کړی دی او له هغو څخنی دغه خبره ځان ته معلومه کړی او اندازه ئی ولګوی چې یوه ورځ هرومرو (خامخا) د دغو موجوداتو او د دغی عظیم‌الشانی کارخانی نتیجه هم ظاهریدونکی ده چې هغه ته آخرت وائی او هلته به هر چاته د ده د اعمالو جزاء او سزا، ثمره او نتیجه ور وراندی کیږی. او هر څه ئی چې کرلی وی هغه به ریبی.

د عمل له مکافاته غافل مه شه!	له غنمو غنم کیږی له اربشو نه اربشه

---

اَفَرَءَیْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ وَاَضَلَّهُ اللّٰهُ عَلٰی عِلْمٍ

---

آیا پس وینې ته هغه څوک چې نیولی وی ده معبود خپل آرزو (د نفس) خپل او ګمراه کړی وی ده لره الله په علم باندی (چې استعداد ئی ورته معلوم دی په ازل کښې).

**تفسیر :** یعنی الله تعالیٰ ته معلوم دی چی د هغه استعداد خراب دی او د دغی خبری وړ (لائق) او مستعد دی چی له سمی لیاری څخه دی لوری او بل لوری ته درومی یا دا مطلب چی هغه بدبخت وروسته له علم، پوه، ایقان او اذعان گمراه شوی دی.

---

وَخَتَمَ عَلَىٰ سَمْعِهِ وَقَلْبِهِ وَجَعَلَ عَلَىٰ بَصَرِهِ غِشَاوَةً فَمَن يَهْدِيهِ مِن بَعْدِ اللَّهِ ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٢٣﴾

---

او مهر لگولی وی پر غوږونو د ده او پر زړه د ده او گرځولی ئی وی پر سترگو د ده پرده پس څوک به لیاره وښیی ده ته پس له (گمراه کولو د) الله (ده لره) پس آیا تاسی پند نه اخلئ (او غور او دقت نه کوئ بلکه پند پری واخلئ).

---

**تفسیر :** یعنی هغه سړی چی محض خپل نفسانی خواهش خپل حاکم او معبود وگرځوی او هر چیری ئی چی خواهش وی هغه لوری ته لاړ شی او د حق او باطل د معلومولو او بیلولو معیار له ده سره هغه د ده نفسانی خواهش او غوښتنه وی نو الله تعالیٰ دی د ده په هم هغی خوښی کړی گمراهی کښی پریږدی، بیا د ده حالت داسی کیږی چی نه ئی غوږونه پند او نصیحت اوریدی شی، او نه ئی په زړه کښی رښتیا خبری ځای نیولی شی او نه پری پوهیدلی شی او نه د ده په سترگو کښی د بصیرت رنا بریښی ظاهر دی چی الله تعالیٰ هر هغه څوک چی د ده د اعمالو په سبب داسی یوه حالت ته رسوی بل به کوم قوت او طاقت وی چی وروسته له هغه دی پر هغی سمی لیاری راولی.

---

وَقَالُوا مَا هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا يُهْلِكُنَا إِلَّا الدَّهْرُ ۚ

---

او وائی (کفار) نشته ژوندون مگر هم دغه ژوندون زمونږ دی په دغی دنیا کښی چی مړه کیږو او ژوندی کیږو او نه مو هلاکوی مگر زمانه.

---

**تفسیر :** یعنی کفار وائی ماسواء له دغه ژوندانه بل ژوندون نشته بس هم دغه دنیا ده چی مونږ په کښی ژوندون کوو او مرو لکه چی د باران په اثر په ځمکه کښی شینکی او ترکودی زرغونیږی، لوئیږی، وچیږی او بیا له منځه ورکیږی د انسان حال هم پر هم دغه قیاس کړئ چی یو وخت پیدا کیږی او تر یوه معینه وخته پوری ژوندون کوی او بالاخر د زمانی چورلیدل او تدویر ئی له منځه پورته کوی او ژوندون ته ئی خاتمه ورکوی او د موت او حیات هم دغه

سلسله تل تر تله ادامه او تسلسل لری، او ما سواء له دی نه بل هیڅ شی نشته. حال دا چی د منکرانو دغه عقیده غلطه ده.

وَمَا لَهُم بِذَٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۖ إِنْ هُمْ إِلَّا يَظُنُّونَ ﴿٢٤﴾

او نشته دوی ته په دغه (انتساب د مرګ زمانی ته) هیڅ قدر علم پوه نه دی دوی مګر ګمان کوی (او اټکل چلوی او دغه خبره بی دلیله وائی).

**تفسیر :** یعنی «دهر» د زمانی نوم دی چی هغه هیڅ کار کوونکی نه دی ځکه چی په هغه کښی نه حس شته او نه شعور او نه اراده لامحاله د دوی مقصد به له دی نه بل کوم شی وی چی هغه د دوی په زعم نه معلومیږی، لیکن په دنیا کښی د هغه تصرفات چلیږی نو بیا د هم دغو تصرفاتو او تحولاتو نسبت ولی پاک الله تعالیٰ ته ونه کړی شی چی د ده وجود او علی‌الاطلاق متصرفوالی له فطریه وو دلائلو او عقلیه وو او نقلیه وو براهینو څخه ثابت شوی دی او د زمانی تحولات تبدیلات او انقلابات او د ورځی او د شپی تبدیل او اختلاف او نور ټول د ده د قدرت په لاس کښی دی هم دغه معنی په حدیث کښی ښوولی شوی ده چی «دهر» الله دی نه ښائی چی دهر ته بد وویلی شی، ځکه څه مهال (وخت) چی انسان دهر ته بد وائی په دی نیت ئی وائی چی د دهر حوادث ورته منسوبیږی، حال دا چی د دهر ټول حوادث د الله تعالیٰ په مشیت او ارادی سره کیږی نو د دهر بد ویل په حقیقت کښی د الله تعالیٰ په حضور کښی بی ادبی او ګستاخی ده اعاذنا الله منه.

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ مَّا كَانَ حُجَّتَهُمْ إِلَّا أَن قَالُوا ائْتُوا بِآبَائِنَا إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٢٥﴾

او هر کله چی ولوستل شی پر دغو (کفارو) آیتونه (د قرآن) زموږ ښکاره نو نه وی حجت دلیل د دوی مګر دا چی وائی راولئ پلرونه زموږ که چیری یئ تاسی رښتینی (په دغی وینا خپلی کښی چی پس له مرګه بیا ژوندون دی).

**تفسیر :** یعنی کله چی د لوی قرآن آیات یا د بعث بعد الموت دلائل دوی ته اورول کیږی نو وائی چی موږ له سره د دغو دلائلو منونکی نه یو هو! که تاسی پخپله په دغی دعوی کښی رښتینی یئ نو زموږ مړه پلرونه او نیکونه راژوندی کړئ او راوئی ښیئ، نو خامخا موږ به ستا

دغه گردی (تولی) خبری منو چی بیشکه پس له مرگه په حقه او رښتیا سره بیا ژوندی کیدل شته.

قُلِ اللّٰهُ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يَجْمَعُكُمْ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَا رَيْبَ فِيهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢٦﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) چی الله ژوندی کوی تاسی بیا مړه کوی تاسی بیا به سره تولوی تاسی ورځی د قیامت ته چی نشته هیڅ شک په (راتلو د) هغی کښی ولیکن زیاتره (کافران) خلق نه پوهیږی. (نو ځکه تری انکار کوی).

**تفسیر :** یعنی هغه ذات چی یو ځلی مو ژوندی کوی او بیا مو وژنی هغه ته دغه کار څه سختی او اشکال لری چی تاسی بیا ژوندی کړی او بیا مو گرد (تول) سره یو ځای راتول او جمع کړی؟.

وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَخْسَرُ الْمُبْطِلُونَ ﴿٢٧﴾

او خاص الله لره دی سلطنت د آسمانونو او د ځمکی (سره له آسمانونو او ځمکی خلقاً ، ملکاً و عبيداً) او په هغه ورځ کښی چی ودریږی قیامت نو په دغه ورځ به زیانکاره شی مبطلان (کافران).

**تفسیر :** په هغی ورځی کښی چی ذلیل، سپک او خوار ودریږی نو هلته به دوی ته دغه خبره ښکاره او څرګندیږی (ښکاریږی) چی تیروتلی او غولیدلی وو.

وَتَرَىٰ كُلَّ أُمَّةٍ جَاثِيَةً ۚ كُلُّ أُمَّةٍ تُدْعَىٰ إِلَىٰ كِتَابِهَا الْيَوْمَ تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٨﴾

او وبه وینی ته (ای کتونکیه په قیامت کښی) هر امت ناست پر ځنګنونو

خپلو (له خوفه او هيبته) هر يو امت به رابللى شى په طرف د كتاب اعمالنامى خپلى (نو ويه ويل شى دوى ته له جانبه د الله چى) نن ورځ به جزاء دركړه شي (تاسى ته د) هغو (اعمالو) چى وئ تاسى چى كول به مو (په دنيا كښى)

**تفسير :** يعنى د اعمالنامى په طرف بلل كيږى چى راځئ سم له دى سره حساب راكړئ! نن هر سړى ته د ده له هغه عمل سره سم بدل جزاء او سزا وررسيږى چى په دنيا كښى ئى كړى وى.

هٰذَا كِتٰبُنَا يَنْطِقُ عَلَيْكُمْ بِالْحَقِّ

دغه كتاب زمونږ دى خبرى كوى (او شاهدى وائى) پر (اعمالو د) تاسى باندى په حقه سره.

**تفسير :** يعنى هر هغه كار چى كړى ئى وى، دغه اعمالنامه به هم هغه په پوره او كامل صورت سره دربښيى او د يوى ذرى په اندازه به هم په هغه څه تزئيد او تنقيص نه كيږى.

إِنَّا كُنَّا نَسْتَنْسِخُ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٩﴾

بيكښه مونږ وو چى امر به مو كاوه په ليكلو سره د هر هغه څه چى وئ تاسى چى كول به مو (په دنـيا كښى).

**تفسير :** يعنى زمونږ په علم كښى هر شى له ازله شته، مگر د دوى د انضباط دپاره زمونږ پرښتى مقررى دى چى د دوى گرد (تول) اعمال حقاً حقاً وليكى، نن د دوى ليكلى شوى مكمل رپورټ ستاسى په مخ كښى پروت دى.

فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَيُدْخِلُهُمْ رَبُّهُمْ فِي رَحْمَتِهِ
ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْمُبِينُ ﴿٣٠﴾

پس هر څه هغه كسان چى ايمان ئى راوړى دى او كړى ئى دى ښه (عملونه) پس ننباسى دوى رب د دوى په رحمت (جنت) خپل كښى دغه (ننوتل د

جنت) هم دغه برى دى ښکاره.

**تفسير :** يعنى په جنت كښى به الله تعالىٰ مومنان داخلوى چى هلته په اعلىٰ درجه سره رحمت او هر قسم مهربانى وى.

وَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا أَفَلَمْ تَكُنْ آيَاتِي تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فَاسْتَكْبَرْتُمْ وَكُنْتُمْ قَوْمًا مُجْرِمِينَ ﴿۳۱﴾

او هر څه هغه كسان چى كافران شوى دى (وبه ويل شى دوى ته داسى) آيا نه ؤ آيتونه (د قرآن) زما چى لوستل كيدل به پر تاسى باندى پس تكبر مو وكړ (او ايمان مو پرى رانه ووړ) او وئ تاسى قوم گنهگاران (كافران).

**تفسير :** يعنى زمونږ له طرفه د پندونو او نصيحتونو پوهولو او د حجت د اتمام گردى (تولى) خبرى دوى ته ور رسولى شوى دى، او له هيڅ پلوه هيڅ يو قصور او لندون په دغه مورد كښى نه دى پاتى، خو سره له هغه هم د دوى د غرور او تكبر سر ښكته نشو او بالاخر د پخو مجرمانو په حيثيت واوښتل يا له ﴿ وَكُنْتُمْ قَوْمًا مُجْرِمِينَ ﴾ څخه داسى مطلب واخيست شى چى تاسى لا له پخوا څخه جرائم كوونكى خلق وئ.

وَإِذَا قِيلَ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ وَالسَّاعَةُ لَا رَيْبَ فِيهَا قُلْتُمْ مَا نَدْرِي مَا السَّاعَةُ إِنْ نَظُنُّ إِلَّا ظَنًّا وَمَا نَحْنُ بِمُسْتَيْقِنِينَ ﴿۳۲﴾

او هر كله چى وبه ويل شو (تاسو ته اى كفارو چى) بيشكه چى وعده د الله حقه ده (په ژوندون سره) او قيامت نشته شك په (راتلو) د هغه كښى نو وبه ويل تاسى نه پوهيږو چى څه شى دى قيامت گمان نه كوو مگر گمان لږ او نه يو مونږ يقين راوړونكى (په راتلو د قيامت).

**تفسير :** يعنى مونږ په دى باندى هيڅ نه پوهيږو چى قيامت به څرنگه وى؟ ته د قيامت كوم عجيب او غريب احوال چى بيانوى مونږ پر هغه له سره يقين او باور نشو كولى، هو! دغو خبرو او اترو او ستا د ډيرو آورولو په اثر يو لږ څه ضعيف امكان او يوه توره تياره خيال ئى زمونږ

په افکارو کښې کله نا کله راځي چې هغه بیله خبره ده.

وَبَدَا لَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا عَمِلُوْا وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۳۳﴾

او ښکاره به شي (په قیامت کښې) دوی ته ناکاره والي (بدی جزاوی) د هغو (بدو اعمالو) چې کړی وو دوی (په دنیا کښې) او چاپیر (نازل) به شي په دوی عذاب د) هغه چې وو دوی چې په هغه پوری به ئې مسخری کولې.

**تفسیر** : یعنی څه مهال (وخت) چې قیامت راشي، د دوی دغه ټول بد کارونه او د هغو نتائج به د دوی په مخ کښې وروړاندی کیږی، او د عذاب او د نورو انذاراتو په نسبت څه توکی ټکالی چې دوی به کولې هغه ټول به د دوی په مخ کښې راځي او دوی چپ له خپل تصوره په هم هغو کښې اخته او ککر کیږی.
د ملائکة العذاب په ژبه دغو کفارو ته د الله تعالیٰ اعلیٰ شانه واعظم برهانه له جانبه دغسی خطاب کیږی چې.

وَقِيْلَ الْيَوْمَ نَنْسٰىكُمْ كَمَا نَسِيْتُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا

او وبه ویل شي چې نن ورځ به هیر کړو (پری به ږدو) مونږ تاسی (په دوزخ کښې) لکه چې هیر کړی وو تاسی ملاقات د ورځې ستاسی دغه (چې ورځ د قیامت ده).

**تفسیر** : یعنی په دنیا کښې دغې لوئی ورځې ته مو هیڅ فکر او خیال نه وو او بیخی مو هغه نه یادوله نن مونږ هم په لطف او مهربانی سره ستاسی یادونه نه کوو او تل تر تله مو په هم دغه عذاب کښې هم هغسی سره خوشي پریږدو لکه چې تاسی په دنیوی مزو، میلو، او چرچو کښې دوب تللي وئ.

وَمَاْوٰىكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿۳۴﴾ ذٰلِكُمْ بِاَنَّكُمُ اتَّخَذْتُمْ اٰيٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا وَّغَرَّتْكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا

او ځای ستاسی اور دی او نشته تاسو ته هیڅوک له مددګارانو (چې مو تری

خلاص کړی). دغه (تعذیب له دی سببه دی) چې بیشکه تاسی نیولی مو وو آیتونه (د قرآن) د الله په توکو سره او مغرور کړی وئ تاسی دغه ژوندون لږ خسیس.

**تفسیر :** یعنی په دنیوی مزو او چرچو کښې داسی مشغول او لګیا شوی وئ چې له سره دغه خبره ستاسی په فکر او خیال کښې نه ګرځیده چې کله به دلته راځئ، او له الله تعالیٰ سره مخامخ کیدونکی یئ، او که څه خیال هم تاسی ته در پیدا شوی وو نو داسی به مو ګڼل او تصور به مو کاوه څرنګه چې نن په دنیوی ژوندانه کښې مونږ د مسلمانانو حریف او مقابل طرف ګڼلی کیږو په اخروی ژوندانه کښې به هم مونږ د هم داسی قوت او زور خاوندان یو.

فَالْيَوْمَ لَا يُخْرَجُونَ مِنْهَا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ ﴿٣٥﴾

نو نن ورځ وبه نه ایستلی شی دوی له دوزخه او نه به د دوی عذر قبول (او توبه ومنله) شی.

**تفسیر :** یعنی نه دوی له دوزخه ایستل کیږی او نه داسی کومه موقع دوی ته ورکوله کیږی چې په هغی کښې څه عبادت او ریاضت وکړی او د رب العزت د رضاء میمنت ځان ته حاصل کړی.

فَلِلَّهِ الْحَمْدُ رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَرَبِّ الْأَرْضِ رَبِّ الْعٰلَمِينَ ﴿٣٦﴾
وَلَهُ الْكِبْرِيَاءُ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۖ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٣٧﴾ ع

پس خاص الله سره ده توله ثناء صفت چې رب د آسمانونو او رب د ځمکی دی رب د تولو عالمیانو دی. او خاص الله لره ده لوئی په آسمانونو او په ځمکه (په علویاتو او سفلیاتو) کښې او هم دی دی ښه غالب قوی (په انفاذ د احکامو) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی).

**تفسیر :** ښائی چې انسان الله تعالیٰ ته متوجه شی! او د ده د احساناتو او انعاماتو قدر وکړی! او پر هدایاتو ئی تګ وکړی او له نورو ګردو (تولو) څخه وشکوی! او محض د ده خوښی او رضا ځان ته حاصله کړی او تل تر تله په هم دغه فکر او ذکر کښې اوسی! تل د ده د عظمت او قدرت په مقابل کښې پخپل واک او اختیار د زړه له کومی مطیع او منقاد وی! له سره د

سرکشي، تمرد، طغيان او عصيان، خيال او گمان پخپل زړه او مخيله کښې ونه گرځوی! په قدسی حديث کښې راغلی دی. «**الكبرياء ردائي والعظمة ازاری فمن نازعنی واحداً منهما قذفته في النار**» کبرياء زما څادر دی او لوی زما ازار دی نو هر څوک چې په دغو دواړو کښې له ماسره منازعه يا کشمکش وکړی زه به ئی په سخت اور کښې په غوځارولو سره غورځوم.«**اللّهم اجعلنا مطيعين لامرک وجنبنا غضبک وقنا عذاب النار انک سميع قريب مجيب الدعوات**».

**تمت سورة الجاثية بعونه وصونه فلله الحمد والمنة وبه التوفيق.**

سورة الاحقاف مكية الا الآيات (١٠ و ١٥ و ٣٥) فمدنية وهی خمس وثلاثون آية و اربع ركوعات
رقم تلاوتها (٤٦) تسلسلها حسب النزول (٦٦) نزلت بعد سورة الجاثية
«د الاحقاف» سورت مکی دی پرته (علاوه) له ١٠ ؤ ١٥ ؤ ٣٥ آياتونو څخه چی مدنی دی (٣٥)
آيته (٤) رکوع لری په تلاوت کښی (٤٦) او په نزول کښی (٦٦) سورت دی وروسته د
«الجاثية» له سورته نازل شوی دی

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ۝

شروع کوم په نامه د الله چه ډير زيات مهربان پوره رحم لرونکی دی

حٰمٓ ۝١ تَنۡزِيۡلُ الۡكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الۡعَزِيۡزِ الۡحَكِيۡمِ ۝٢
مَا خَلَقۡنَا السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَاۤ اِلَّا بِالۡحَقِّ وَاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ

رالیږل د دی کتاب (قرآن) دی له طرفه د الله ښه غالب قوی (په انفاذ د احکامو) ښه حکمت والا (چی هر کار په تدبير او مصلحت سره کوی) نه دی پيدا کړی مونږ آسمانونه او ځمکه او هر هغه څيزونه چی په منځ د دی دواړو کښی دی مگر په حقه (دپاره د دی چی دلالت وکړی په قدرت او وحدانيت زمونږ) او (په) تاکلی(مقرر کړی) وعدی سره.

**تفسير:** يعنی آسمان او ځمکه او دا گردی (تولی) کارخانی الله تعالیٰ خوشی چتی (بيکاره) نه دی جوړی کړی. بلکه هغه گردی (تولی) ئی د يوه غرض او مقصد دپاره پيدا کړی دی چی تر يوه تاکلی(مقرر کړی) مدت او اينبود شوی نيتی او معين ميعاد پوری به هم داسی چليږی کله چی د دی نړی (دنيا) نتيجه راښکاره شی نو هغه ته به آخرت وايه شی.

وَالَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا عَمَّاۤ اُنۡذِرُوۡا مُعۡرِضُوۡنَ ۝٣

او هغه کسان چی کافران شوی دی له هغه څيزه چی دوی پری ويرولی شی (چی قرآن دی) مخ گرځوونکی دی

**تفسیر:** یعنی له بد انجام څخه نه ویرېږی او د آخرت دپاره څه تیاری نه کوی کله چې د آخرت خبری آوری نو په یوه غوږ ئې ننوځی او له بل غوږ څخه ئې وځی او ژر تر ژره ئې هیروی.

قُلۡ أَرَءَيۡتُم مَّا تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَرُونِي مَاذَا خَلَقُواْ مِنَ ٱلۡأَرۡضِ أَمۡ لَهُمۡ شِرۡكٞ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِۖ

ووایه (ته ای محمده!) آیا وینئ خبر کړئ تاسی ما په (حال د) هغو (بتانو) چې بولئ ئې عبادت کوئ تاسی بی له الله وښیئ تاسی ماته کوم دی هغه څیز چې پیدا کړی دی دوی له ځمکی څخه؟ آیا شته دوی ته څه شرکت په (پیدا کولو د) آسمانونو کښی؟ (یعنی نشته له الله سره شریک)

**تفسیر:** یعنی قدوس الله تعالیٰ آسمان او ځمکه او ګرد(ټول) مخلوقات پیدا کړی دی آیا په رښتیا سره ویلی شئ چې د ځمکی کومه ټوټه یا د آسمان کومه برخه بل چا پیدا کړی ده؟ یا ئې پیدا کولی شی؟ نو دوی بیا ولی هغه خپل باطل معبودان له الله تعالیٰ سره بولی؟ بلکه زیات له هغه څخه ئې ولی ګڼی؟ او ولی غوښتنی ورځنی کوی؟ دا «ام» بمعنی د همزی د انکار دی.

ٱئۡتُونِي بِكِتَٰبٖ مِّن قَبۡلِ هَٰذَآ أَوۡ أَثَٰرَةٖ مِّنۡ عِلۡمٍ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ۝٤

راوړئ تاسی ماته کوم کتاب (چې راغلی وی تاسی ته) پخوا له دغه (قرآنه) یا یوه باقی علامه دلیل له علمه (د پخوانیو انبیاؤ) که چیری یئ تاسی رښتینی (په دی کښی چې په عبادت کولو د دی بتانو به الله ته نژدی کیږئ)

**تفسیر:** یعنی که دوی د خپل شرک په دعوی کښی رښتین وی نو د کوم آسمانی کتاب سند دربښکاره کړی یا په داسی یو علمی اصول سره دی دا خپله وینا جوته (ثابته) کړی چې د عاقلانو په مخکښی د منلو وړ(لائق) وی که پر یو څیز باندی نه عقلی او نه نقلی دلیل په لاس وی نو هغه په څه دول(طریقه) د منلو او آوریدلو وړ(لائق) کیدی شی؟

وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ يَّدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَنْ لَّا يَسْتَجِيْبُ لَهٗۤ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ وَهُمْ عَنْ دُعَآئِهِمْ غٰفِلُوْنَ ﴿٥﴾

او څوک دی ډير گمراه (يعنی هيڅوک نشته ډير گمراه) له هغه چا چی بولی بی له الله څخه هغه چی نشی قبلولی هغه لره (دعاء سؤال) تر ورځی د قيامت پوری (چی هغه بتان دی) او دغه (بتان) له دعاء بلنی د دغو (عابدانو څخه) بی خبره دی (ځکه چی جمادات دی)

**تفسير:** يعنی له دی څخه به لويه گمراهي او زيات حماقت څه شی وی چی يو ناپوه خپل الله تعالیٰ پريږدی او له داسی يو بی ژوند او بی واک مخلوق څخه د خپلو اړتياوو(مجبورو) او احتياجاتو په پوره کولو کښی امداد او مرستی(مدد) وغواړی چی هغوی پخپل مستقل اختيار د هيڅا غږ نشی اوريدلی بلکه دا هم کومه ضروری خبره نه ده چی که هغوی له داسی غږيدلو څخه خبر هم شی. د تيږو(گټو) او خاورو او د نورو شيانو بتان خو لا پريږده پرښتی او پيغمبران هم هغه خبری آوری او همغه چاری کولی شی چی د هغو اجازت او قدرت د پاک رب العزت جل جلاله له لوری هغوی ته ورکړی شوی دی.

وَاِذَا حُشِرَ النَّاسُ كَانُوْا لَهُمْ اَعْدَآءً وَّكَانُوْا بِعِبَادَتِهِمْ كٰفِرِيْنَ ﴿٦﴾

او کله چی راتول کړل شی خلق (لپاره د حساب) وی به (وبه گرځی) دغه (بتان) دغو (خپلو عابدانو) ته دښمنان او وی به (وبه گرځی) دغه (معبودان) په عبادت د دغو (عابدينو خپلو) منکران

**تفسير:** يعنی په آخرت کښی چی امداد او معاونت ته ئی ډيره اړتيا(احتياج) او حاجت وی نو دا بی وسه معبودان خپلو عابدانو ته څه مرستی(مدد) رسولی شی؟ بلکه لکه دښمن د دوی په مخکښی به ودريږی او له دوی څخه به خپله سخته بيزاری او خپگان ښکاروی تر دی چی داسی به هم وائی ﴿ مَا كَانُوْۤا اِيَّانَا يَعْبُدُوْنَ ﴾ جزء ٢٠ (د قصص ٧ رکوع ٦٣ آيت) يعنی دا خلق مونږ نه پيژنو او نه ئی زمونږ بندگی کړی ده نو تاسی فکر وکړئ چی په هغه وخت کښی به دوی ته څومره حسرت او ندامت ورپيښيږی.

وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ هٰذَا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٧﴾

او کله چې ولوستل شي پر دغه (اهل د مکې) باندې آیتونه (دلائل د قدرت) زمونږ ښکاره نو وائي هغه کسان چې کافران شوي دي حق (قرآن) ته کله چې راشي دوی ته چې دا سحر جادو دی ښکاره

**تفسیر:** یعني دا خلق اوس د آخرت هیڅ فکر نه کوي او نه نصیحت او نه پند او نه ښوونې ته غوږ ږدي که د پاک قرآن آیتونه دوی ته واورول شي نو په ځغرد (ضد) سره وائي چې دا خو ظاهر سحر کوډي او جادو دی.

أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ ۖ

بلکه وائي دوی له ځانه ئې جوړ کړی دی (محمد دغه قرآن او د الله له جانبه نه دی راغلی)

**تفسیر:** یعني د جادو ویلو څخه زیاته قبیحه او شنیعه د هغوی دا دعوی ده چې قرآن مجید دوی له خپله ځانه جوړ کړی دی، او د خورا(ډیر) لویو دروغو نسبت ئې الله تعالیٰ ته کوي (العیاذ بالله).

قُلْ إِنِ افْتَرَيْتُهُ فَلَا تَمْلِكُونَ لِي مِنَ اللَّهِ شَيْئًا ۖ

ووایه (ته ای محمده ! دوی ته) که ما جوړ کړی وی دغه (قرآن فرضاً) له ځانه پس نه به شئ تاسې مالکان (خلاصوونکی) ما لره له (عذاب د) الله په مخکښې هیڅ قدر (نو ولې به ترم دغومره لوی دروغ پر الله باندې؟)

**تفسیر:** یعني پر الله تعالیٰ باندې دروغ ویل ډیر لوی جرم دی که په فرض محال سره داسې جسارت هم وکړم نو ګواکې په لوی لاس مې خپل ځان د الله تعالیٰ لوی غضب او ډیر سخت عذاب ته ورواندې کړ، لږ څه خو خیال وکړئ هغه سړی چې پخپل ګرد(ټول) عمر کښې پر بندګانو باندې دروغ نه وي ویلې او په ډیرو کوچنیو کوچنیو (وړو وړو) معاملو کښې د الله تعالیٰ له ډاره رېږدی نو څرنګه به یو ناڅاپه پر الله تعالیٰ باندې دروغ وائي او خپل ځان پخپل لاس به داسې لوی عذاب کښې اخته کوي چې د دنیا هیڅ یو قوت له هغه څخه ژغوروونکی (بچ کوونکی) نشي کیدې. فرض ئې کړئ که زه رښتیا په دروغو سره تاسې د خپل ځان تابع کړم نو تاسې به مې څرنګه د الله تعالیٰ د هغه قهر او غضب څخه وژغورلې (وساتلې) شئ چې هغه د

نبوت دروغجنو مدعيانو ته ټاکلې(مقرر) شوې دی چې په دروغو ځان پيغمبر بولي او کله چې ما له الله تعالیٰ څه بدی راپيښی کړی نو تاسی به له ما سره څه ښيګڼی(فائدی) وکړلی شئ؟ آخر زما ځلويښت کلن حالات او سوانح تاسی ګردو(ټولو) ته معلوم دی چې زه نه دومره بې خوفه او بې باکه او نه داسی بې عقل یم چې د ځينی مخلوق د خوښولو دپاره د الله تعالیٰ خپګان ځان ته وګټم په هر حال که زه معاذ الله کاذب او مفتری یم نو د هغه وبال به زما په غاړه وی.

هُوَ اَعْلَمُ بِمَا تُفِيْضُوْنَ فِيْهِ ؕ كَفٰى بِهٖ شَهِيْدًۢا بَيْنِىْ وَبَيْنَكُمْ ؕ

دغه (الله) ته ښې معلومې دی هغه خبری چې تاسی لګيا يئ، په هغو کښې، کافي دی دغه (الله) ښه شاهد حق ښوونکی په منځ زما او په منځ د تاسی کښې (چې دغه قرآن له جانبه د الله دی)

**تفسير:** يعنی هغه خبری چې تاسی ئی ويونکی يئ الله تعالیٰ ته هغه ښې معلومې دی نو ځکه د لغو او چټی(بيکاره) خبرو او بيکاره خيالاتو څخه وګرځئ! او د خپل انجام په فکر کښې ولوېږئ! که د الله تعالیٰ حق رسول ته کاذب او مفتری وايئ نو د دی خبری پای (آخر) دروند دی ولی چې الله تعالیٰ ته زمونږ او ستاسی هيڅ کومه پټه خبره پټه نه ده هغه په خپل صحيح او محيط علم سره موافق د هر چا له چاری سره سمه معامله کوونکی دی زه هغه پاک الله د خپل او ستاسی په منځ کښې شاهدوم هغه به د خپل قول او فعل سره راښيی چې کوم يو رښتيا وائی؟ او کوم يو دروغجن دی؟ او افتراء کوی.

وَهُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ۝

او هم دغه (الله) دی ښه مغفرت کوونکی (د خطياتو) ډير رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره)

**تفسير:** يعنی که اوس هم له هغو خبرو څخه خپله خوله ونيسئ نو وبه ښښلی شئ؟ او وبوهيږئ چې دا ښښنه د الله له لورينی (مهربانی) او ښښنی او حلم څخه ده چې سره له دی چې ستاسی په جرايمو باندی پوه دی او پوره قوت او قدرت هم لری چې تاسو ووژنی او په راز راز(قسم قسم) بلاوو کښې مو اخته کړی خو بيا هم له تاسی سره ښه کوی.

قُلْ مَا كُنْتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ

ووايه (اى محمده دوى ته) نه يم زه اول له رسولانو (بلكه زما نه پخوا هم رسولان تير شوى دى)

**تفسير:** يعنى تاسى زما له دى خبرو څخه ولى دومره بد وړئ؟ ما كوم نوى شى له ځان سره نه دى راوړى. له ما څخه مخ كښې هم د نبوت او رسالت سلسله جارى وه. زه هم هغه خبره كوم چې هغوى كوله، له هغو ګردو(ټولو) پيغمبرانو څخه وروسته زه د الله تعالىٰ له لورى رسول او استاځى شوى يم. او هغه خبرى تاسى ته دررسوم چې پخوانيو پيغمبرانو هم ويلى دى نو له دى حيثيته هم زه د كومى نوى خبرى ويونكى نه يم. بلكه د ډيرو پخوانيو زيريو مصداق يم چې تاسو ته مخامخ شوى يم. نو د هغه په منلو كښې څه اشكال درپيښ دى؟.

وَمَآ أَدۡرِي مَا يُفۡعَلُ بِي وَلَا بِكُمۡۖ إِنۡ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّ وَمَآ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٞ مُّبِينٞ ٩

او نه پوهيږم چې څه به وكړل شى له ما سره (په دنيا كښې) او نه (پوهيږم) چه څه به وكړل شى له تاسو سره (په دنيا كښې) نه كوم زه پيروى متابعت مګر خو د هغه (حكم) چې راليږلى شوى دى ماته (چې قرآن دى) او نه يم زه مګر ويروونكى يم ښكاره (له عذابه).

**تفسير:** يعنى زه له دى خبرى سره هيڅ اړه (تعلق) او كار نه لرم چې زما د دى كار وروستنى نتيجه څه كيږى؟ او له ما سره به الله تعالىٰ څه معامله كوى؟ او له تاسى سره به څه چارى كوى؟ او نه اوس زه پوره پوره تفصيلونه د خپل او ستاسى د انجام په نسبت ښوولى شم چې په دنيا او آخرت كښې به څه څه پيښې پيښيدونكى وى؟ يوه خبره كوم چې زما كار يواځې د الله تعالىٰ د وحى اتباع او د الله جل جلاله د حكم امتثال او د كفر او د عصيان له خرابو نتائجو څخه په ډير ښكاره ډول(طريقه) سره د خلقو پوهول دى له دى نه زيات هغه شيان چې زما او ستاسو په مخكښې په دنيا او آخرت راتلونكى دى د هغو ګردو(ټولو) تفصيلات سم د لاسه زه نشم درښوولى او نه په داسى خبرو كښې له لويدلو څخه كوم مطلب لرم. د بندګانو كار د الله تعالىٰ د احكامو د منلو په وخت كښې دا دى چې هغه فقط د زړه له كومى په اخلاص سره بلاكم او كيف ومنى او اجراء ئې كړى او د هغو له نتايجو څخه پوښتنه ونه كړى.

قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن كَانَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ وَكَفَرْتُم بِهِۦ وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنۢ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ عَلَىٰ مِثْلِهِۦ فَـَٔامَنَ وَٱسْتَكْبَرْتُمْ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٠﴾

ووایه (ته ای محمده دوی ته) آیا وینئ خبر کړئ تاسی ما (چی څه حال به وی ستاسو) که چیری وی دغه (قرآن) له جانبه د الله حال دا چی کافران شوی یئ تاسی په ده سره او بیا شاهدی ویلی ده یوه شاهد له (علماؤ) د بنی اسرائیلو په مثل حقیقت د داسی یو کتاب باندی پس ایمان راوړی وی (پری هغه شاهد) او تکبر کړی وی تاسی (له ایمان راوړلو پری نو آیا تاسو نه یئ ظالمان؟ بلکه خامخا ظالمان یئ!) بیشکه الله نه ښیی سمه صافه لیاره قوم ظالمانو ته

**تفسیر:** په دغه زمانه کښی د عربو ناپوهان د بنی اسرائیلو له علم او فضل څخه مرعوب وو کله چی زمونږ د پیغمبر د نبوت آوازه (انگازه) خوره شوه نو گردو(تولو) مشرکانو د دوی د بعث په نسبت د بنی اسرائیلو له پوهانو څخه پوښتنی کولی او غوښتل ئی چی د هغوی په خولو دوی دروغجن وښیی. او د خپلو ویناوو دپاره کومه خبره زده کړی او وئی وائی چی وگورئ! د علم خاوندان او اهل الکتاب هم د ده خبری دروغ گڼی خو په دی مقصد کښی هم مشرکان تل ناکام شول او الله تعالیٰ د هم هغو بنی اسرائیلو په ژبو زمونږ د پیغمبر تصدیق او تائید وفرمایه. او دا ئی ورښکاره کړه چی هغوی هم لکه پاک قرآن غوندی یو آسمانی کتاب چی توریت دی او یو پیغمبر چی حضرت موسیٰ علیه السلام دی لری نو څکه د حضرت د رسالت دعوی او د قرآن نزول او راښکته کیدل کوم نوی شی نه دی. له یهودانو څینی عالمانو په ښکاره ډول(طریقه) سره هم اقرار وکړ چی بیشکه زمونږ په توریت کښی لیکلی دی چی له عربو څخه به یو عظیم الشان رسول مبعوث شی چی د یوه مقدس آسمانی قرآن لرونکی وی او دا رسول هم هغه موعود پیغمبر راښکاری او دا کتاب ئی هم هغه آسمانی کتاب دی چی مونږ په توریت کښی لوستلی دی د یهودانو د عالمانو دا شهادتونه فی‌الحقیقت له هغو پخوانیو ویناوو سره سم وو چی سره له زرهاوو تحریفونو او تبدیلو تر اوسه پوری په توریت او نورو کتابونو کښی لیکل کیږی چی له هغو څخه راښکاریږی چی د بنی اسرائیلو ډیر لوی او مقدس گواه حضرت موسیٰ علیه السلام په زرهاوو کلونو پخوا له دی نه داسی شاهدی ورکړی ده چی د بنی اسرائیلو له اقاربو او ورونو څخه په بنی اسمٰعیل کښی به زما په شان یو پیغمبر راشی لکه چی د جزء ۲۹ (المزمل) په اوله رکوع ۱۵ آیت کښی راغلی دی ﴿ إِنَّآ أَرْسَلْنَآ إِلَيْكُمْ رَسُولًا شَٰهِدًا عَلَيْكُمْ كَمَآ أَرْسَلْنَآ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ رَسُولًا ﴾ له هم دی سببه وو چی څینی منصف او حق خوښوونکی یهودان احبار لکه عبدالله بن سلام او نور زمونږ د پاک پیغمبر په اول لیدلو کښی مسلمانان شول او وئی ویل «**ان هذا الوجه لیس بوجه**

**کاذب»** نه دی دا مخ د دروغجن او هغوی د پاک قرآن غوندی د یو واضح الاعجاز کتاب په حقانیت باندی شاهدی ولوستله کله چی موسٰی علیه السلام د یوه شی په وقوع باندی په زرهاوو کلونو پخوا له دی نه زیری وکری او د یقین ولری او د یهودانو علماء د هغه په صدق باندی شاهدی ورکری او د هغوی ځینی احبار برسیره د ژبی په شاهدی ورکولو په زړه سره هم داسی شاهدی ورکره چی په اسلام مشرف شول نو سره له دومره شهادتونو که تاسی د خپلی لوینی او غرور لامله(له وجی) هغه نه منئ نو وپوهیږئ چی له دی څخه به کومه سخته گناه بله نه وی او داسی ظالم او لوی گنهگار ته نه ښائی چی د نجات او فلاح څه توقع ولری.

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا لَوْ كَانَ خَيْرًا مَّا سَبَقُونَا إِلَيْهِ ۚ

او وائی هغه کسان چی کافران شوی دی په حق د هغو کسانو کښی چی ایمان ئی راوړی دی (داسی) که چیری وی (دا ایمان راوړل) خیر بهتر نو نه به وو ړومبی شوی (دغه خوار مؤمنان) پر مونږ باندی هغه ته (بلکه مونږ اشراف به پری ړومبی شوی ؤ نه دغه خواران او ضعیفان مسلمانان)

**تفسیر:** یعنی زیاتره مسلمانان کمزوران ذلیلان، وینځی مریان دی که دا دین ښه وی نو ښو سړیو به مندی وروهلی او د هغه په منلو کښی به ئی زمونږ په شان پوهان، لویان، عزتمندان او مالدار څرنگه له دی مریانو او وینځو څخه وروسته پاتی کیدل؟

وَإِذْ لَمْ يَهْتَدُوا بِهِ فَسَيَقُولُونَ هَٰذَا إِفْكٌ قَدِيمٌ ﴿١١﴾

او کله چی سمه صافه لیاره بیا نه مونده دغو (منکرانو) په دغه قرآن سره نو ژر ده چی وبه وائی دوی دغه (قرآن) دروغ پخوانی دی

**تفسیر:** یعنی پخوانیو خلقو هم تل داسی خبری سره جوړولی ښائی چی دا به د ﴿ وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّن بَنِي إِسْرَائِيلَ ﴾ او د ﴿ قُلْ مَا كُنتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ ﴾ جواب وی.

وَمِن قَبْلِهِ كِتَابُ مُوسَىٰ إِمَامًا وَرَحْمَةً ۚ وَهَٰذَا كِتَابٌ مُّصَدِّقٌ

حال دا چی پخوا له دغه (قرآنه) کتاب (توریت) د موسٰی امام پیشوا لیار ښوونکی وو (مؤمنانو ته) او (سبب د) رحمت وو (پر دوی) او دغه (قرآن) یو کتاب تصدیق کوونکی دی (هغو پخوانیو کتابو لره)

**تفسير:** يعني دا پخواني دروغ نه دي بلکه پخواني رښتيا دي چي په زرهاوو کلونو پخوا له دي نه توريت هم د هم دي اصول تعليم او ښوونه کري ده او د هغه اقتداء گردو(تولو) پيغمبرانو او وليانو کوله او پخپلو بشارتو د تعليم سره ئي گردو(تولو) راتلونکيو نسلونو ته د هدايت رښتيا ښي لياري وروښوولي او د رحمت ورونه ئي ورپرانيستل. اوس پاک قرآن نازل شوی دی او د هغه تصديق کوی. لنده ئي دا چي دواړه کتابونه يو د بل تصديق کوونکی دی. او هم دا حال د نورو سماوی کتابونو دی.

لِّسَانًا عَرَبِيًّا لِّيُنذِرَ الَّذِينَ ظَلَمُوا وَبُشْرَىٰ لِلْمُحْسِنِينَ ﴿١٢﴾ إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿١٣﴾

په دی حال کښی چي په ژبه عربی دی دپاره د دی چي وويروی (دغه قرآن) هغه کسان چي ظلم ئي کړی دی «پر ځانونو خپلو په کفر سره» او زيری (د خوشالی) دی نيکو کارانو (مؤمنانو) لره (په جنت سره) بيشکه هغه کسان چي وائی رب زمونږ الله دی (نه بتان) بيا تينگ ودريږی (په عبادت د ده) پس نه به وی (هيڅ) ويره پر دوی او نه به وی دوی چي خپه به شي (په آخرت کښي)

**تفسير:** هم داسي آيت د «حٰمٓ السجدة» سورت په څليرويشتمه سيپاره کښي تير شوی دی ښائی چي د هغه فوائد هلته ولوستل شي.

أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ خَالِدِينَ فِيهَا جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٤﴾

دغه کسان ياران اوسيدونکی د جنت دی په دی حال کښی چي هميشه به وی دوی په دغه (جنت) کښي ورکوله به شي دوی ته جزاء په سبب د هغو (نيکو عملونو) چي وو دوی چي کول به ئي (په دنيا کښي)

**تفسير:** يعني د نيکو چارو په سبب د حق تعالیٰ په رحمت به هميشه په جنت کښي پاتي کيږی.

وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ إِحْسَانًا ۖ

او وصیت حکم مو کړی دی هر انسان ته له مور او پلار خپل سره د احسان نیکی کولو

**تفسیر:** د قرآن کریم په څو ځایونو کښی حق تعالیٰ خپل حق د مور او پلار له حق سره یو ځای بیان فرمایلی دی ځکه چی حقیقی موجد خو الله تعالیٰ دی لیکن په عالم اسباب کښی د اولاد د وجود ظاهری سبب والدین دی، او د حق تعالیٰ د ربوبیت د شان خاص مظهر وایه شی. دلته هم پرومبی په ﴿ اِنَّ الَّذِیْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا ﴾ کښی د الله تعالیٰ د حقوقو ذکر وو اوس ئی د والدینو حق راوښود. یعنی انسان ته حکم ورکړی شوی دی چی له خپلو والدینو سره ښه سلوک وکړی! د هغوی تعظیم، محبت خدمت کول او خوښی خپل سعادت وګڼئ! په بل ځای کښی ئی دا ښوولی دی . که والدین مشرک هم وی بیا هم له هغوی سره په دنیا کښی ښائی ښه معامله وکړی! په تیره بیا د مور خدمت کول چی د ځینو وجوهو لامله(له وجی) د هغی حق دی له پلار څخه زیات اداء کړ شی لکه چی صحیحه احادیث په دی باندی دال دی. ځکه چی

حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ كُرْهًا وَّوَضَعَتْهُ كُرْهًا ؕ

پورته کړی (ساتلی) ئی ده دی (په نس خپل کښی) مور د ده په سختی سره او (بیا) ئی ایښودلی (ځیږولی) دی ده لره په سختی سره،

**تفسیر:** یعنی کله چی حمل د څو میاشتو شی د هغه دروندوالی معلومیږی مور په دی وخت کښی او د تولد په وخت کښی څومره صعوبتونه او ربړونه (تکلیفونه) پر ځان آخلی بیا خپل کوچنی(ماشوم) ته شودی ورکوی او تر کلونو کلونو هغه هر راز(قسم) ربړونه (تکلیفونه) په ځان ګالی(برداشت کوی)، روزنه او پالنه ئی کوی. خپله آرامی او هوسائی(راحت) د هغه په هوسائی(راحت) او آرامی باندی جاروی(قربانوی) پلار هم تر زیاتی اندازی پوری په دغو تکلیفونو کښی مل وی او د هغه د روزنی وسیلی ورغوندوی بیشکه چی دا ګردی(تولی) چاری د فطرت په تقاضا کیږی او د هم دی فطرت تقاضا وی چی اولاد د خپل مور او پلار دا محبت او شفقت محسوس کړی او د هغوی د هغه محنت او ایثار قدر وکړی.

**تنبیه:** په حدیث کښی د پلار د خدمت کولو امر یو ځلی او د مور د خدمت کولو امر دری ځلی راغلی دی. د خبری خوند او لطف په دی کښی دی چی دی مبارک آیت هم د پلار او والد ذکر یو کرت په «والدیه» کښی او د والدی ذکر دری کرته راغلی دی. یو کرت د «والدیه» په لفظ کښی دوهم کرت په «حملته امه» او بیا په «وضعته» کښی.

وَحَمْلُهُ وَفِصٰلُهُ ثَلٰثُوْنَ شَهْرًا

او (دا) پورته کول ساتل د ده (په نس د مور کښې) او جلا(جدا) کول د ده (له تی نه) دیرش میاشتې وی.

**تفسیر:** ښائی د اکثریه عادت لامله(له وجې) ئې داسی فرمایلی وی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه وائی «که هلک قوی وی وروسته له یوویشتو میاشتو څخه له شودو بیلیږی او نهه میاشتې د هغه د حمل دی. یا داسی ووایئ چې لږ تر لږه د حمل مدت شپږ میاشتې دی او په دوو کلونو کښې کوچنیان (واړه) عموماً له تی څخه جلا(جدا) کیږی چې گرده(توله) مدت سره دیرش میاشتې شوی د رضاع د مودی زیادت له دی څخه دیر کم او نادر دی.

حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ اَشُدَّهٗ وَبَلَغَ اَرْبَعِيْنَ سَنَةً

تر هغه پوری کله چې ورسید دی قوت (د هوښیاری) خپلی ته او ورسید څلویښت کلونو ته

**تفسیر:** په څلویښت کلنی کښې عموماً د انسانانو عقلی او اخلاقی قوتونه پخیږی نو ځکه د انبیاؤ علیهم السلام بعث هیڅ کله پخوا له څلویښت کلنی څخه نه دی شوی.

قَالَ رَبِّ اَوْزِعْنِيْٓ اَنْ اَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلٰى وَالِدَيَّ وَاَنْ اَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضٰىهُ وَاَصْلِحْ لِيْ فِيْ ذُرِّيَّتِيْ ۚ اِنِّيْ تُبْتُ اِلَيْكَ وَاِنِّيْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿١٥﴾

وویل ده ای ربه زما الهام وکړی ماته په زړه کښې توفیق راکړی په دی چې شکر اداء کړم د نعمت ستا هغه (اسلام) چې انعام کړی دی تا پر ما باندی او په مور او پلار زما باندی او (بل دا راته الهام وکړه) چې عمل وکړم نیک چې راضی کیږی ته په هغه او صلاحیت کیږده ته (یا الله) په اولاده زما کښې، بیشکه ما توبه کړی ده تاته او بیشکه یم زه له حکم منونکیو څخه

(فرمان ستا ته)

**تفسير:** يعني سعادتمند سړی داسی وی چی د هغو احساناتو شکريه ادا کړی چی الله تعالیٰ په هغه باندی او د هغه په مور او پلار باندی احسان کړی دی او د راتلونکی نيک عمل توفيق له الله څخه وغواړی او د خپل اولاد په حق کښی هم د نيکی دعاء طلب وکړی او له هغه تقصير او لند والی څخه چی په حقوق الله او حقوق العباد کښی له هغه څخه شوی وی توبه وکړی او د خلوص او تواضع او بندګی له لياری څخه د خپل مخلصانه عبوديت او فرمانبرداری اعتراف وکړی!.
**تنبيه:** په صحابه ؤ رضی الله تعالیٰ عنهم کښی حضرت ابوبکر صديق رضی الله تعالیٰ عنه خورا(دير) دير خوش قسمت وو چی پخپله دوی او د هغوی مور او پلار او اولاد ته سره د ايمان د نبی کريم صلی الله عليه وسلم د صحبت شرف حاصل شوی دی په صحابه ؤ کښی دا خصوصيت بل هيچا ته نه دی حاصل شوی.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ نَتَقَبَّلُ عَنْهُمْ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا وَنَتَجَاوَزُ عَن سَيِّئَاتِهِمْ
فِي أَصْحَابِ الْجَنَّةِ ۖ وَعْدَ الصِّدْقِ الَّذِي كَانُوا يُوعَدُونَ ﴿١٦﴾

دغه (تول چی دا ئی حال او قال دی) هغه کسان دی چی قبلوو مونږ له دوی نه دير ښه د هغو(کارونو) چی کړی دی دوی او تيريږو له ګناهونو د دوی نه په دی حال کښی چی وی به په يارانو اوسيدونکيو د جنت کښی وعده کړی ده الله وعده ريښتينی هغه (وعده) چی وو دوی چی وعده به ئی ورسره کولی شوه (په دنيا) کښی

**تفسير:** يعني د داسی بندګانو نيکی منلی، بدی ئی ښښلی کيږی او د دوی ځای د الله اعظم شانه و اکرم برهانه له صادقی وعدی سره سم جنت دی.

وَالَّذِي قَالَ لِوَالِدَيْهِ أُفٍّ لَّكُمَا

او هغه (سړی) چی وئی ويل مور او پلار خپل ته (کله چی راوئی باله ايمان ته) قباحت او کراهيت دی وی تاسی دواړو لره

**تفسير:** د سعادت من اولاد په مقابل کښی ئی دغه د بی ادب او نالائق او نافرمان اولاد ذکر وفرمايه چی مور او پلار هغه ته د ايمان خبری کوی او پری پوهوی ئی مګر هغه پری نه پوهيږی

او په ډيرو بې ادبو خبرو سره ورته غبرګي او سپک خطابونه ورته کوي او ايذاء وررسوي. او دغسې هم هغوی ته وائي چې

اَتَعِدٰنِنِيْٓ اَنْ اُخْرَجَ وَقَدْ خَلَتِ الْقُرُوْنُ مِنْ قَبْلِيْ ۚ

آيا وعده کوئ تاسې له ماسره چې وبه ايستلی شم (له قبره) حال دا چې په تحقيق تير شوي دي ډير اهل د زمانې پخوا له ما څخه (او يو هم نه دی ژوندی شوی نو زه به څرنګه بيا ژوندی شم؟)

**تفسير:** يعنې د مړ کيدلو څخه وروسته له ژوندی کيدلو څخه انکار کوي او هيڅ له قيامت او پوښتنې څخه نه ويريږي او وائي چې څومره قومونه او ټبرونه پخوا له ما څخه تير شوي دي نو آيا له هغوی څخه کوم يو سړی تر اوسه پورې بيا ژوندی شوی دی؟ خلق له پخوا څخه تر اوسه پورې درګرده هم داسې خبرې اوري خو تر اوسه پورې د دې خبرې تحقيق پای(آخر) ته نه دی رسيدلی نو اوس زه څرنګه په دې باندې اعتبار وکړم؟

وَهُمَا يَسْتَغِيْثٰنِ اللّٰهَ وَيْلَكَ اٰمِنْ ۖ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ ۚ

او هغو دواړو زاری کولې الله ته (په دغه حال کښې چې ويل دوی) خرابي ده تاته ايمان راوړه ته! بيشکه وعده د الله (په بعث بعد الموت سره) حقه رښتيا ده

**تفسير:** يعنې د ده په اړامنې (ګستاخې) باندې له يوې خوا الله تعالیٰ ته فريادونه او دعاوې کوي چې ده ته د حق د قبول توفيق ور په برخه شي او له بلې خوا ئې پوهوي چې کمبخته ستا کور وران شو اوس هم وخت دی فکر وکړه او وګوره چې د الله تعالیٰ وعده رښتيا ده د بعث بعدالموت کوم خبر چې د الله تعالیٰ له لوری ورکړی شوی دی بالکل حق او هغه پخپل تاپې او وعدې پوره کيدونکی دی او په هغه وخت کښې به ستا د دغه ناکارې (انکار) نتيجه ښه درښکاره شي.

فَيَقُوْلُ مَا هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿١٧﴾

پس وائي دی نه دی دا (قول په بعث) مګر دروغې قصې د پخوانيو خلقو دي

**تفسير:** يعني داسي قصي مونږ ډيرى اوريدلي دى د پخوانيو وختونو قصي داسي ډيرى مشهوريږى چي په رښتيا سره هغه ګردى (تولى) دروغ دى او هيڅ خارجي مصداق نه لرى (العياذ بالله)

أُولَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ حَقَّ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقَوۡلُ فِيٓ أُمَمٖ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهِم مِّنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِۖ

دا هغه كسان دى چي حقه ثابته شوى ده پر دوى باندى خبره (د عذاب) په جمله د نورو امتونو خلقو كښي چي په تحقيق تير شوى دى پخوا له دوى څخه له پيريانو او انسانانو

**تفسير:** د عذاب خبره هم هغه ده چي د (السجدة) په دوهمه ركوع كښي ﴿ لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ ﴾ راغلي دى يعني څرنګه چي ډيرى ډلي له پيريانو او له بنى آدمانو څخه پخوا له دى نه د دوزخ مستحق ګرځيدلي دى دا بدبختان هم په هغوى كښي ګډ دى.

إِنَّهُمۡ كَانُواْ خَٰسِرِينَ ١٨

بيشكه دوى وو زيان كاران (په دنيا كښي)

**تفسير:** الله تعالىٰ له خپل رحمت د ايمان او د سعادت تخم د هر سړى په زړه كښي په فطرى ډول(طريقه) سره كرلي دى هغه هم د دى كمبختانو له لاسه ضائع شوى دى له دى څخه به زيات نقص او خساره څه وى چي يو سړى په تجارت كښي د ګټي په ځاى د خپلي ناپوهي، غفلت او حماقت له سببه خپله پنګه او رأس المال هم ضائع او له لاسه وباسي.

وَلِكُلّٖ دَرَجَٰتٞ مِّمَّا عَمِلُواْۖ

او هرى فرقي ته (د مؤمنانو او كافرانو) مرتبى دى له (جزاء د) هغو چي كړى ئى دى (په دنيا كښي)

**تفسير:** يعني د اعمالو د تفاوت لامله(له وجى) چي د جنتيانو په درجاتو كښي فرق او توپير (تفاوت) دى هم دا راز(قسم) د دوزخيانو په درجاتو كښي هم فرق شته.

وَلِيُوَفِّيَهُمْ أَعْمَالَهُمْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١٩﴾

او (مقرری کړی درجې) دپاره د دې چې پوره به ورکړه شي دوی ته جزاء د عملونو د دوی حال دا چې پر دوی به ظلم ونه کړ شي (په تنقيص د حسناتو يا تزئيد د سيئاتو سره

**تفسير:** نه د کومې نيکۍ ثواب لږ ورکاوه شي او نه د کومې بدۍ سزا د هغه له ميچه پورته او نامناسبه تاکلی(مقرر) کيږي.

وَيَوْمَ يُعْرَضُ الَّذِينَ كَفَرُوا عَلَى النَّارِ أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَاتِكُمْ فِي حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا وَاسْتَمْتَعْتُمْ بِهَا

او ياده کړه (ای محمده!) هغه ورځ چې وړاندې کړ شي هغه کسان چې کافران شوي دي پر اور (د دوزخ باندې او وبه ويلې شي ورته) چې وړې دې تاسې لذائذ نيکۍ خپلې په ژوندون لږ خسيس خپل کښې او نفع اخيستې ده تاسې په هغه سره (په دنيا کښې)

**تفسير:** د کافرانو په هيڅ يو کار کښې د ايمان روح نه وي يواځې د نيکۍ د يوه قالب او نمونې غوندې يو شی وي. د دې راز(قسم) فانی نيکۍ اجر هم فانی وي چې په دې ژوندون کښې د مال، شتو، اولاد، حکومت، روغتيا، عزت، شهرت او نورو په شکل ورکاوه شي. هم هغه ئې وفرمايل چې تاسې د خپلو صورې نيکيو مزې په دنيا کښې اخيستې دی او په هغه ځای کښې ئې له لذاتو څخه متمتع شوی يئ هغه عيش او آرام چې د ايمان راوړلو په تقدير تاسو ته په آخرت کښې رسيده ګواکې د هغه په ځای مو په دنيا کښې مزې وکړې. اوس دلته تاسو په عيش او مزو کښې هيڅ برخه نه لرئ. حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليکي «هغه کسان چې آخرت نه غواړي او فقط دنيا ئې وغوښته د دوی د نيکيو بدله هغوی ته په هم دې دنيا کښې ورکوله کيږي».

فَالْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُونِ بِمَا كُنْتُمْ تَسْتَكْبِرُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَبِمَا كُنْتُمْ تَفْسُقُونَ ﴿٢٠﴾

پس نن ورځ به جزاء درکوله شي تاسی ته د عذاب سپکوونکی په سبب د هغی چې وئ به تاسو (په دنیا کښې) چې تکبر لوئ به مو کوله په ځمکه کښې په ناحقه سره او په سبب د هغی چې وئ تاسو چې نافرمانی به مو کوله (په دنیا کښې)

**تفسیر:** یعنی نن تاسی ته د دروغو باتو (لافو) او غاړه غړولو په سزا کښې ذلیل او رسوا کوونکی عذاب درکاوه کیږی هم دا یو شی تاسی لره دلته پاتی دی وروسته له دی نه د ځینو زوررو او متکبرو اقوامو احوال فرمائی چې پخوا له آخرته د هغوی انجام څرنګه شوی دی.

وَاذْكُرْ أَخَا عَادٍ إِذْ أَنذَرَ قَوْمَهُ بِالْأَحْقَافِ

او یاد کړه (ای محمده! دغو منکرانو ته قصه) د ورور د عاد(هود) کله چې وویراوه ده قوم خپل په (ریګستان چې نوم ئې) احقاف دی (له عذابه)

**تفسیر:** یعنی د حضرت هود علیه السلام چې د «عادیانو» قومی ورور وو قصه دغو معاندانو ته وکړه کله چې ویراوه ده قوم خپل له عذابه.
د «ارض القرآن» مؤلف تر «بلا د الاحقاف» لاندی لیکی د یمامی، عمان، بحرین، حضرموت او د مغربی یمن تر منځ هغه لویه صحراء چې د (الدهناء) یا (ربع الخالی) په نامه پرته(علاوه) ده اګر که هغه د ودانی وړ(لائق) نه ده خو د هغه په شاو خوا کښې چیری لږی دیری ځمکی د ودانی وړ(لائق) شته په تیره بیا په هغی برخی کښې چې له حضرموت څخه تر نجران پوری پرتی دی ګواکی اوس هم هغه نه ده ودانه خو په پخوانیو وختو کښې له هم دی نجران او حضرموت تر منځ د «عادارم» نومیالی قبیله ودانه وه چې د الله تعالیٰ د نافرمانی په سبب پناه شوه.

وَقَدْ خَلَتِ النُّذُرُ مِن بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿٢١﴾

او په تحقیق تیر شوی وو (نور) ویرووونکی (انبیاء) وړاندی له دغه (هوده) او وروسته له ده څخه (په دی سره) چې عبادت بندګی مه کوئ د هیچا بی له الله، بیشکه زه ویریږم پر تاسی باندی له عذابه د ورځی لوئی (د قیامت نه چې دوزخ دی)

**تفسير:** يعني له هود عليه السلام څخه وړاندې او وروسته ډير ويرونکي انبياء راغلي دي ګردو(تولو) به هغه ويل چې حضرت هود عليه السلام ويل يعنې د يوه الله بندګي کوئ! او د کفر او د معصيت له بد انجام څخه وويريږئ! ممکن دی چې د عاد په قوم کښې به هم برسيره له هود عليه السلام نور ويرونکي هم راغلي وي والله سبحانه وتعالىٰ اعلم

قَالُوٓا أَجِئْتَنَا لِتَأْفِكَنَا عَنْ ءَالِهَتِنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّـٰدِقِينَ ﴿٢٢﴾

وويل (هود ته قوم ئې) آيا راغلي ئې ته مونږ ته چې وګرځوې مونږ له معبودانو خپلو پس راوړه مونږ ته هغه (عذاب) چې وعده ئې کوې له مونږ سره که چيرې ئې ته له رښتيا ويونکيو څخه.

**تفسير:** يعني مونږ د خپل آبائي طريقې څخه بيرته ګرځيدونکي نه يو که ستا دا ويرول رښتيا وي نو ولې پکښې ځنډ(ايسارتيا) کيږي؟ هغه چې په ژبه سره ئې وائې ښائي چې په کولو ئې هم راښکاره کړې.

قَالَ إِنَّمَا ٱلْعِلْمُ عِندَ ٱللَّهِ وَأُبَلِّغُكُم مَّآ أُرْسِلْتُ بِهِۦ وَلَـٰكِنِّىٓ أَرَىٰكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُونَ ﴿٢٣﴾

وويل (هود قوم خپل ته) بيشکه هم دا خبره ده چې علم په (راتلو د عذاب په) نزد د الله دی او رسوم زه تاسې ته هغه څه (احکام) چې پرې رالیږلی شوی يم زه په هغو سره وليکن زه وينم تاسې يو قوم جاهل ناپوه (ځکه چې په زوره خپل ځان ته عذاب غواړئ)

**تفسير:** يعني داسې غوښتنه او مطالبه ستاسو ناپوهي او جهالت دی زه د الله رسول يم هغه پيغام چې زما په وسيله ليږلی شوی دی زه هغه دررسوم، زيات له هغه څخه نه علم لرم او نه د اختيار خاوند يم او علم له الله تعالىٰ سره دی چې منکران کله د دنيوي سزا مستوجب کيږي؟ او تر کله هغوی ته مهلت ورکوي؟ (نو چې منع نه شول دوی نو ورته راغی هغه مطلوب او موعود عذاب).

فَلَمَّا رَاَوْهُ عَارِضًا مُّسْتَقْبِلَ اَوْدِيَتِهِمْ قَالُوْا هٰذَا عَارِضٌ مُّمْطِرُنَا ط

پس كله چې وليد دوى (هغه عذاب په شكل د) يوى پلنى وريځې مخ كوونكى كندو كښتو (فصلونو) د دوى ته نو وى ويل دوى دا يوه پلنه وريځ ده باران وروونكى پر مونږ باندى

**تفسير:** يعنى له مخامخ خوا څخه يوه وريځ په پورته كيدلو سره ښكاره شوه خلقو وګڼل چې د دى وريځې له وريدو څخه به ګرد(تول) وتونه (درى) او خوړونه وبهيږى او د ځمكى مخ به له اوبو څخه نه ښكارى نو وئى ويل چې ډيره اوروونكى وريځ پورته شوه اوس به ډير ښه ووريږى او زمونږ كار به پرى جوړيږى ځكه چې په هغه وخت كښى د يوى اوږدى وچكالى او سوكړى له سببه خلق ډير پريشان او له قحط په ربړ(تكليف) وو او اوبو ته ئى ډير ضررت درلود(لرلو).

بَلْ هُوَ مَا اسْتَعْجَلْتُمْ بِهٖ ط رِيْحٌ فِيْهَا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٢٤﴾ لا

(نو ووېل هود نه ده دا وريځ) بلكه دا هغه عذاب دى چې تلوار به مو كاوه تاسو په هغه، يو باد دى چې په ده كښى عذاب دى دردناک

**تفسير:** يعنى دا اوروونكى وريځ نه ده بلكه د الله د عذاب طوفان دى چې د هغه ژر راتللو ته تاسى سترګى په ليارە ولاړ وئ. او په دغه وريځ كښى دغسى يو سخت او تند باد دى.

تُدَمِّرُ كُلَّ شَيْءٍۢ بِاَمْرِ رَبِّهَا فَاَصْبَحُوْا لَا يُرٰۤى اِلَّا
مَسٰكِنُهُمْ ط كَذٰلِكَ نَجْزِى الْقَوْمَ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿٢٥﴾

چې هلاكوى (او له بيخه راوكاږى) هر شيز په امر حكم د رب خپل بيا صباح ته پاتى شول داسى چې نه به ليدل شو مګر كورونه (خالى) د هغوى هم داسى (لكه چې مو جزاء وركړه عاديانو ته) جزاء وركوو مونږ قوم ګنهګارانو ته (چې كوى جرمونه په شان د هغوى).

**تفسير:** اوه شپې او اته ورځى پرله پسى داسى غضبناک طوفان راوالوت چې د هغه په مخ كښى

ونی، سری او بودگان(څاروی) لکه څځلی ښکاریده وربښ به هر شی له بنسته (بیخه) ایستل او چار چاپیر پرته (علاوه) له خرابی او ورانی څخه بل شی نه ښکاریده په پای (آخر) کښی پرته(علاوه) له نړیدلیو کندوالو څخه بل هیڅ څیز په سترګو نه راتله. ومو لیدل چی د الله تعالیٰ د مجرمانو دا حال دی ښائی د دی پیښو له آوریدلو څخه په سد (هوش) راشئ که نه ستاسی احوال به هم داسی شی.

وَلَقَدْ مَكَّنّٰهُمْ فِيْمَآ اِنْ مَّكَّنّٰكُمْ فِيْهِ

او خامخا په تحقیق قوت قدرت ورکړی وو موږ دوی ته په هغو څیزونو کښی چی قوت قدرت مو دی درکړی تاسی ته (ای قریشو) په هغه کښی

**تفسیر:** یعنی هغه مال، اولاد، کور، کهول او جسمانی طاقت چی هغوی ته ورکړی شوی وو تاسی ته نه دی درکړی شوی. کله چی د الله تعالیٰ له جانبه عذاب راغی هیڅ یو شی د هغوی په کار ورنغی بیا نو تاسی په کومه خبره مغرور یئ؟

وَجَعَلْنَا لَهُمْ سَمْعًا وَّاَبْصَارًا وَّاَفْـِٕدَةً ۖ فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ سَمْعُهُمْ وَلَآ اَبْصَارُهُمْ وَلَآ اَفْـِٕدَتُهُمْ مِّنْ شَيْءٍ

او ګرځولی دی موږ هغوی ته غوږونه (سماعت) او سترګی (بصارت) او زړونه (بصیرت) بیا دفع نه کړه له دوی نه غوږونو (سماعت) د دوی او نه سترګو (بصارت) د دوی او نه زړونو (بصیرت) د دوی هیڅ قدر (له عذاب څخه)

**تفسیر:** یعنی د نصیحت آوریدلو ته ئی غوږونه او د قدرت د دلائلو لیدلو ته ئی سترګی او پوهیدلو سنجولو (فکرکولو) ته ئی زړونه هغوی ته ورکړی وو خو یو له هغوی څخه د دوی په کار ورنغی، ړانده، کاڼه او لیونیان شول. د پیغمبرانو په مخکښی ودریدل تر څو چی سره د لرلو د دی ګردو(ټولو) قوتونو د الله تعالیٰ عذاب هغوی راچاپیر کړل، او هیڅ یو دننی او د باندنی قوت هغه ونشو ګرځولی.

اِذْ كَانُوْا يَجْحَدُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٢٦﴾ ع

له دی جهته چې وو دوی چې انکار به ئی کاوه په دلائلو د (قدرت) د الله او نازل شو په هغوی هغه (عذاب) چې وو دوی چې په هغه پوری به ئی مسخری توکی کولی.

**تفسیر:** یعنی په هغه عذاب باندی چې هغوی خندا کوله او ملندی ئی پری وهلی اخته شول. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «هغوی ته ئی غوږونه او سترگی ورکړی وی یعنی د دنیا په کار کښې دیر پوه او هوښیار وو خو داسی پوه ئی نه درلوده(لرله) چې په هغی باندی د خپل آخرت چاری درستی کړی.

وَلَقَدۡ اَهۡلَكۡنَا مَا حَوۡلَكُمۡ مِّنَ الۡقُرٰى

او خامخا په تحقیق هلاک کړی دی موږ هغه چې چاپیر له تاسی څخه دی له (اهل د) کلیو ځنی

**تفسیر:** یعنی پرته (علاوه) د «عاد» له قومه د ثمود د قوم او د لوط د قوم کلی او د نورو کلی هم دا راز(قسم) وران شوی دی چې ستاسی په شاوخوا کښې پراته ؤ. دا خطاب مکیانو ته ځکه شوی دی چې هغوی د خپل تگ او راتگ په وخت کښې هغه ځایونه پخپلو سترگو سره وینی.

وَصَرَّفۡنَا الۡاٰيٰتِ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُوۡنَ ﴿۲۷﴾

او مکرر مو بیان کړی دی دلائل (د قدرت) لپاره د دی چې دوی بیرته راوگرځی (له کفر نه)

**تفسیر:** مکر سره له دومره پوهولو بیا هم هغوی له هغو چارو څخه مخ ونه گرځاوه.

فَلَوۡلَا نَصَرَهُمُ الَّذِيۡنَ اتَّخَذُوۡا مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ قُرۡبَانًا اٰلِهَةً ؕ

پس ولی مدد مرسته ونه کړه له دوی سره هغو (بتانو) چې نیولی ؤ دوی (هغه بتان) بی له الله دپاره د نژدیوالی (خدای ته په زعم خپل) نور خدایان

**تفسیر:** یعنی د هغو بتانو په نسبت به ئی ویل چې موږ د هغوی عبادت ځکه کوو تر څو هغوی موږ الله ته نژدی کړی او لوی درجی راوبښی. نو هغه بتان د دی اړی (حاجت) په وخت کښې

ولی د هغوی په کار ورنغلل.

بَلْ ضَلُّوْا عَنْهُمْ ۚ

بلکه ورک شول (بتان په وخت د عذاب کښی) له دوی څخه

**تفسیر:** یعنی نن ورځ د هغوی هیڅیری پته نشته. چی د عذاب په وخت کښی هغوی ته غږ وکړی، آخر هغوی چیرته تللی دی؟ چی د داسی مصیبت په وخت کښی هم په کار نه ورځی.

وَذٰلِكَ اِفْكُهُمْ وَمَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿٢٨﴾

او دا (نیول د بتانو) دروغ د دوی وو او هغه چی وو دوی چی له خپل ځانه به ئی جوړول (پر الله)

**تفسیر:** یعنی درښکاره شوه چی بتانو ته الله ویل او هغو ته هیلی (امید) لرل او په زړه پوری خبری له هغوی څخه غوښتل ګردی(تولی) چتی(بیکاره) او اپلتی خبری وی او لکه د لرګیو پښی د دریدلو وړ(لائق) نه وی. (ربط) په رومبنیو آیتونو کښی د انسانانو د تمرد او سر غړولو خبری وی وروسته له دی نه د پیریانو د اطاعت او غاړه ایښودلو خبری راځی تر څو له هغه څخه راښکاره شی هغه قوم چی په طبیعی ډول(طریقه) سره سخت متمرد او سرکش دی له هغو ځینی افرادو څرنګه د الله تعالیٰ خبری آوریدلی دی؟ او د هغه په مقابل کښی لکه موم غوندی پاسته شوی دی او غاړه ئی کیښودلی؟

وَاِذْ صَرَفْنَآ اِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُوْنَ الْقُرْاٰنَ ۚ فَلَمَّا
حَضَرُوْهُ قَالُوْٓا اَنْصِتُوْا ۚ فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا اِلٰى قَوْمِهِمْ مُّنْذِرِيْنَ ﴿٢٩﴾

او یاد کړه (هغه وخت ای محمده!) کله چی وګرځول مونږ تاته یو تولی له پیریانو څخه چی غوږ به ئی ایښود قرآن ته پس کله چی حاضر شول دوی (دی قرآن ته) وویل دوی په منځ خپل کښی چپ شئ تاسی ای پیریانو بیا کله چی تمام شو (د قرآن تلاوت) بیرته وګرځیدل قوم خپل ته ویروونکی (له عذابه که هم هغسی کافران پاتی شی)

**تفسير:** له محمدی بعثت څخه پخوا ځينو پيريانو ته لږ څه آسمانی خبری راښکاريدی کله چی زمونږ په پيغمبر باندی د وحی راتلل شروع شو دا سلسله تقريباً بنده شوه او په ډير کثرت د شهاب سره ويشتل شروع شو پيريانو ته دا خيال ولويد چی هرومرو(خامخا ) کومه نوی خبره پيښه شوی ده چی د هغی په وسيله آسمانی پيښی کلکی ساتلی او سختی پيری پری دريدلی دی. د دی خبری د پلټنی(تحقيق) دپاره پيريان څو څو لوئی ډلی په مشرق او مغرب کښی سره خواره شول له دوی څخه يوه ډله (بطن نخله) ته ورسيده چی اتفاقاً هلته زمونږ پيغمبر صلی الله عليه وسلم سره له څو تنو اصحابو د سهار لمونځ ادا فرمايه الله تعالیٰ د پيريانو د دی ډلی فکر د حضرت محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم د قرآن لوستلو په لوری وګرځاوه د قرآن کريم غږ د هغوی په غوږونو کښی ډير عجيبه غريبه مؤثر او زړه وړونکی اثر او اغيزه وکړه او د هغه عظمت، هيبت او لوينی د هغوی په زړونو کښی ولويدی او پخپلو منځونو کښی ئی سره وويل «چپ شئ! او د زړونو له کومی څخه ئی واورئ!» تر دی چی پاک قرآن د هغوی زړونه په خپل لوری ورکش کړل او په دی خبره باندی ئی باور وشو چی هم دا هغه نوی خبره ده چی د هغی په سبب پيريان له آسمانه شړل کيږی. کله چی رسول اکرم صلی الله عليه وسلم د قرآن له لوستلو څخه فارغ شو د پيريانو ډلی پخپلو زړونو کښی د ايمان او ايقان سوغات نيولی د خپلو تبرو په لوری رهی(روان) شوه. او دا ګردی(تولی) خبری ئی هغؤی ته وويلی او لازمه ښوونی ئی هغوی ته وکړی. چی مفصلی خبری ئی د (جن) په سورت کښی راځی. له احاديثو څخه راښکاريږی چی ونی هغوی ته له دی خبرو څخه د الله تعالیٰ په اذن څه اجمالی خبری وکړی او مفصل احوال ئی وروسته له هغه د وحی په ذريعه هغوی ته ښکاره شوه.

لکه چی د (جن) په اوله رکوع کښی مونږ داسی يو آيت لولو ﴿قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ﴾ الآية - وروسته له دی څخه ډير پيريان مسلمانان او زمونږ د پيغمبر آخر زمان صلی الله عليه وسلم په مخ کښی مشرف شول او د هغوی ډيری مرکی (وفود) د دين د احکامو د زده کولو دپاره راغلی.

(خفاجی) د روايتو په بناء دعوی کوی چی شپږ ځلی زمونږ د پيغمبر په حضور کښی پيريان مشرف شوی دی نو ځکه هغه اختلافات چی د پيريانو د شمير يا د نورو امورو په نسبت شته هغه ګرد(تول) د واقعاتو په تعدد او په بيا بيا پيښيدو باندی حمل کاوه شی.

---

## قَالُوا يٰقَوْمَنَآ إِنَّا سَمِعْنَا كِتٰبًا أُنزِلَ مِنۢ بَعْدِ مُوسٰى

ووېل دوی ای قومه زمونږ بيشکه مونږ واموريده داسی يو کتاب چی نازل کړی شوی دی وروسته له موسیٰ

**تفسیر:** په پخوانیو کتابونو کښې د حضرت موسٰی علیه السلام کتاب (توریت) غوندی بل کتاب، احکام، او شرایع لرونکی نه وو چې د بنی اسرائیلو گردو(تولو) انبیاوو په هم هغه باندی عمل کاوه. حضرت مسیح علیه السلام هم دا فرمایل چې زه د توریت د بدلولو دپاره نه یم راغلی بلکه د هغه د پوره کولو دپاره راغلی یم. د حضرت سلیمان علیه السلام په وخت کښې په پیریانو کښې هم دا توریت مشهور وو، نو ځکه په دی ځای کښې د هم هغه په لوری اشاره شوی ده. په توریت کښې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په نسبت کومه وینا چې لیکلی شوی ده مضمون ئی دا دی «ای موسٰی! تا غوندی یو بل نبی معبوثیږی».

مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ

په دی حال کښې چې تصدیق کوونکی موافق دی له هغو (کتابونو) سره چې پخوا له دی نه وو

**تفسیر:** ښائی په هغه وخت کښې د پاک قرآن هغه برخه چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم لوستله د هم داسی مضمون لرونکی وه. یا به له قرینو څخه پوهیدلی وی.

يَهْدِيْٓ إِلَى الْحَقِّ وَإِلٰى طَرِيْقٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۳۰﴾

لیاره ښیی حق دین ته او لیاری سمی ته

**تفسیر:** یعنی رښتینی عقیده او د عمل سمه لاره.

يٰقَوْمَنَآ أَجِيْبُوْا دَاعِيَ اللّٰهِ وَاٰمِنُوْا بِهٖ

ای قومه زمونږ! قبول کړئ تاسی قول د بلونکی د الله او ایمان راوړئ په ده باندی

**تفسیر:** یعنی د هغه خبره ومنئ! چې د الله تعالٰی په لوری مو بولی او د هغه په رسالت باندی یقین ولرئ!.

يَغْفِرْ لَكُمْ مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ

چې مغفرت کړی (الله) تاسی ته گناهونه ستاسی

**تفسير:** يعنى هغه گناهونه چې د کفر په حالت کښې مو کړی دی اوس به د اسلام له برکته هغه گرد(ټول) درمعافيږی او پس له دی نه به بل دفتر شروع کيږی. خو په ياد ئې ولرئ چې دلته د (حق الله) گناهونو ذکر دی او د حقوق العباد معافی له دی څخه نه ښکاری.

وَيُجِرْكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣١﴾ وَمَن لَّا يُجِبْ دَاعِيَ اللَّهِ فَلَيْسَ بِمُعْجِزٍ فِي الْأَرْضِ وَلَيْسَ لَهُ مِن دُونِهِ أَوْلِيَاءُ

او خلاص به کړی (الله) تاسی له عذاب دردناک څخه او هغه څوک چې ونه منی (بلنه د) بلونکی د الله پس نه به وی عاجز کوونکی (د الله په تيښته سره) په ځمکه کښې (بلکه هيچيری) او نه به وی ده ته بې له هغه (الله) څخه دوستان مددگاران

**تفسير:** يعنى نه دوی پخپله په تښتيدلو سره د الله له ويشتلو څخه ځان ژغورلی (بچ کولی) شی او نه ئې بل څوک ژغورلی (بچ کولی) شی. حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليکی د «فی الارض» له قيد څخه دا ښکاری چې د پرښتو له خوا (شيطانان) شړل کيږی او د ځمکی په لوری تښتی.

أُولَٰئِكَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٣٢﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ اللَّهَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَلَمْ يَعْيَ بِخَلْقِهِنَّ

دغه کسان په گمراهی ښکاره کښې دی. آيا نه وينی فکر نه کوی (منکران د بعث) چې بيشکه الله هغه (ذات) دی چې پيدا کړی ئې دی آسمانونه او ځمکه حال دا چې نه دی ستړی شوی په پيدا کولو د هغوی کښې

**تفسير:** په دی لفظ کښې د يهودانو د دی عقيدی ترديد دی چې ويل به ئې «الله تعالیٰ» په شپږو ورځو کښې ځمکه او آسمان پيدا کړل او په اوومه ورځ کښې ئې هوسائی (آرام) وفرمايله (العياذ بالله) آيا نه دی الله

بِقٰدِرٍ عَلٰٓى اَنْ يُّحْيِۦَ الْمَوْتٰى ۭ بَلٰٓى اِنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٣٣﴾

قادر په دی باندی چې ژوندی کړی مړی؟، بلکه قادر دی بیشکه دغه (الله) پر هر څیز باندی (چې اراده وفرمائی) ښه قادر دی (چې څینې ئې بعث بعد الموت دی)

**تفسير:** یعنې لوی عذاب به وروسته له مرګ کیدلو څخه وی. تاسو په دی چرت (خیال) کښی مه اوسئ چې وروسته له مرینی څخه بیا ژوندون چیری دی؟ الله جل جلاله ته دا کوم ګران کار نه دی د ځمکی او د آسمان په پیدا کولو کښی هیڅ ستړی شوی نه دی نو آیا ستاسی دا دوهم ځلی پیدا کول کوم مشکل کار دی؟ بلکه ډیر ورته آسان دی.

وَيَوْمَ يُعْرَضُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَلَى النَّارِ ۭ اَلَيْسَ هٰذَا بِالْحَقِّ ۭ قَالُوْا بَلٰى وَرَبِّنَا ۭ

او یاده کړه هغه ورځ چې وړاندی به کړل شی هغه کسان چې کافران شوی دی په اور باندی (وبه ویل شی دوی ته) آیا نه وو دغه (عذاب) حق رښتیا نو وبه وائی دوی چې هو! حق او رښتیا ده قسم دی زمونږ په رب زمونږ

**تفسير:** یعنې په هغه وخت کښی به ویل کیږی چې آیا دوزخ شته او د هغه عذاب رښتیا دی؟ په پای (آخر) کښی به ګرد(تول) خر او ذلیل کیږی او داسی اقرار به وکړی چې بیشکه واقعی دی! او مونږ په غلطه سره له هغه څخه انکار کاوه. نو په دغه وخت کښی الله اجل واعلیٰ شانه واعظم و اکرم برهانه به د پرښتو په ژبه دغو منکرینو ته داسی فرمائی چې «ښه ! اوس د خپلو هغو انکارونو او د تکذیب مزی وڅکئ!» لکه چې اوس راځی.

قَالَ فَذُوْقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿٣٤﴾ فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ اُولُوا الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ وَلَا تَسْتَعْجِلْ لَّهُمْ ۭ

فرمائی نو وڅکئ تاسی عذاب په سبب د هغه چې وئ تاسی چې کافران

کیدلی. نو صبر کوه ته لکه چې صبر کړی وو خاوندانو د عزم تینګ ودریدلو (په حق) له رسولانو او تلوار مه کوه (په غوښتلو د عذاب) دوی ته

**تفسیر:** یعنی کله چې ښکاره شوه چې د منکرانو سزا ورکول که په دنیا کښې وی یا په آخرت کښې یو ضروری امر دی. تاسی د دوی په معاملو کښې تلوار ونه کړئ! بلکه تر تاکلی(مقرر) نیتی پوری صبر وفرمایئ لکه چې نورو اولوالعزمو رسولانو همت لرونکیو او تینګ ودریدونکیو پیغمبرانو په صبر کاوه.

**تنبیه:** ځینو اسلافو ویلی دی چې ګرد(تول) اولوالعزم پیغمبران همت لرونکی وو. خو په عرف کښې پنځه پیغمبران په خصوصی دول(طریقه) ویل کیږی. حضرت نوح، حضرت ابراهیم، حضرت موسٰی، حضرت عیسٰی، حضرت محمد رسول الله صلی الله تعالیٰ علیهم وعلیٰ آلهم واصحابهم وسلم اجمعین.

كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَ مَا يُوعَدُونَ لَمْ يَلْبَثُوٓا۟ إِلَّا سَاعَةً مِّن نَّهَارٍ ۚ

ګویا دوی په هغه ورځ کښې چې ووینی هغه (عذاب) چې وعده ئی ورسره کوله شی نه دی ډیل کړی (په دنیا کښې) مګر یو ساعت یوه ګړی له یوی ورځی څخه

**تفسیر:** یعنی په دنیا کښې هیڅ ډیل او تاخیر پکښې نه دی شوی یعنی اوس خو ډیل او تاخیر درښکاری او درګرده وائی چې ولی هغه عذاب ژر نه رارسیږی خو په هغی ورځی کښې به وپوهیږی چې هغه عذاب ډیر ګرندی راغلی دی. او په دنیا کښې هغوی فقط یو ګړی ژوندون کړی دی. یا به د قبر د هستوګنی موده ورته یو ګړی معلومیږی. دا یوه عمومی قاعده ده چې تیره شوی موده ډیره لږه ښکاری په تیره بیا د سختی او مصیبت په وخت کښې د عیش آرامی ډیره موده خورا(ډیر) لږه په نظر ښکاری.

بَلَٰغٌ ۚ فَهَلْ يُهْلَكُ إِلَّا ٱلْقَوْمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ﴿٣٥﴾ ع

دغه (قرآن) پند رسوونه دی نو آیا هلاک به کړ شی (بلکه نه هلاک کیږی) مګر قوم فاسقان سر غړوونکی (له احکامو د الله)

**تفسیر:** یعنی مونږ د نصیحت خبری تاسی ته دررسولی او د ښو او بدو لیاری مو درښوولی دی اوس هر هغه چې دا پند نه آوری هم هغه به تباه او پناه کیږی. زمونږ له خوا د حجت اتمام

شوی دی. مونږ هیڅوک بی قصوره نه نیسو هم هغه سړی خرابوو چی په خرابی پسی ئی ملاوی ترلی وی.

## تمت سورة الاحقاف

سورة محمد صلی الله علیه وسلم مدنیة الا آیة ١٣ فنزلت فی الطریق فی اثناء الهجرة وهی ثمان و ثلاثون آیة و اربع رکوعات رقم تلاوتها (٤٧) تسلسلها حسب النزول (٩٥) نزلت بعد سورة الحدید

د «محمد» صلی الله علیه وسلم سورت مدنی دی، پرته(علاوه) له ١٣ آیته څخه چی د هجرت په لیاره کښی نازل شوی دی (٣٨) آیته ٤ رکوع لری، په تلاوت کښی (٤٧) او په نزول کښی (٩٥) سورت دی وروسته د «الحدید» له سورت څخه نازل شوی دی.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ

هغه کسان چی کافران شوی دی او منع کړی ئی دی (خلق یا منع ئی راوړی ده) له لیاری د الله (اسلام) نه

**تفسیر:** لکه چی د کفارو د مشرانو دا عادت وو چی په ځان، مال او اولاد او نورو شیانو سره ئی په دی لیاری کښی کوشش کاوه.

أَضَلَّ أَعۡمَٰلَهُمۡ ١

خراب (ابته) کړی دی (الله نیک) عملونه د دوی

**تفسیر:** یعنی هغه چاری چی دوی ښی ګڼلی دی د ایمان د نه لرلو په سبب هغه نه منلی کیږی بلکه له هغو څخه ځینی چاری د عتاب موجب ګرځی. لکه د اسلام د نه خوریدلو په لیاره کښی د پیسو لګول.

وَالَّذِينَ اٰمَنُوا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَاٰمَنُوا بِمَا نُزِّلَ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّهُوَ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ ۙ كَفَّرَ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَاَصْلَحَ بَالَهُمْ ۝٢

او هغه کسان چې ایمان ئې راوړی دی او کړی ئې دی ښه (کارونه) او ایمان ئې راوړی دی په هغه (قرآن) چې نازل کړی شوی دی پر محمد او هغه حق (دین) دی له (نزده د) ربه د دوی وبه رژوی له دوی څخه (الله) گناهونه د دوی او ښه به کړی (الله) حال د دوی.

**تفسیر:** یعنی خراب عادتونه به الله جل جلاله له هغو څخه لری، او د هغوی احوال به ښه کوی چې ورځ په ورځ به ښه والی کښې پرمخ تگ کوی او په آخرت کښې د هغوی له گناهونو څخه تیریږی او ښه ورځ ورکوی. حضرت شاه صاحب لیکی «په پخوا زمانه کښې گرد(تول) خلق د یوه شریعت په منلو باندی مکلف نه ؤ خو اوس گردی(تولی) دنیا ته یو حکم، دین او رښتیا دین هم دا دین دی. مسلمانان هم ښه او خراب کارونه کوی او کافران هم خو د دی حق دین له منلو څخه دا گټه(فائده) او قبولیت لاس ته راغی چې نیکی ئې پاتی کیږی او خرابی ئې ښښلی کیږی او د نه منلو دا سزا ده چې نیکی ئې بربادہ او گناه ئې لازمه ده».

ذٰلِكَ بِاَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا اتَّبَعُوا الْبَاطِلَ وَاَنَّ الَّذِينَ اٰمَنُوا اتَّبَعُوا الْحَقَّ مِنْ رَّبِّهِمْ ۚ كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللّٰهُ لِلنَّاسِ اَمْثَالَهُمْ ۝٣

دغه (د کفارو د ښو اعمالو تخریب او د مسلمانانو د بدیو مغفرت) په سبب د دی دی چې بیشکه هغه کسان چې کافران شوی دی متابعت ئې کړی دی د باطل (د شیطان) او بیشکه هغه کسان چې ایمان ئې راوړی دی متابعت ئې کړی دی د حق (قرآن) له جانبه د رب د دوی هم داسی (په مثل د دی بیان) بیانوی الله خلقو ته مثالونه (احوال) د دوی.

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ خلقو ته داسی ښه ښکاره د هغوی د ښو او بدو احوال ورښوولی او په گردو(تولو) خبرو باندی ئې پوه کړی دی تر څو د باطلو خوښولو نحوست او شامت او د حق منلو برکت او کرامت د هغوی په زړونو کښې په ښه ډول(طریقه) سره کینی.
هر کله چې الله تعالیٰ حقوالی د مؤمن او باطلوالی د کافرو بیان کړ، اوس د کافرو بیان دی

يعنى چې داسې ورسره مناسب دى لکه چې فرمائي:

فَإِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتَّىٰ إِذَا أَثْخَنتُمُوهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً

نو کله چې مخامخ شوئ (په جنګ کښې) له (هغو کسانو) سره چې کافران شوي دي نو ووهئ وهل د ورميږونو (د هغو) تر هغه پورې چې ښه ډير مو ووژل دوی او پرې غالب شوئ نو (وتړئ دوی) بيا سخت محکم کړئ تړل (د دوی چې در څخه خلاص نشي) پس بيا يا احسان ورسره وکړئ احسان کول وروسته (له بندی کولو او تړلو ئې) او يا تاسې فديه کړئ دوی فديه کول (په عوض ئې مال واخلئ يا مسلمانان بنديان راخلاص کړی)

**تفسير:** يعنى د حق او باطل مقابله تل وی کله چې د مسلمانانو او کافرانو په منځ کښې جنګ شروع شي نو مسلمانانو ته ښائي چې په هغه کښې په ډيره ميرانه او بهادری سره توره وکړی. د باطل زور هلته ماتيږی چې خورا(ډير) شرير سرى ووژلى شي او د هغوى دلى ورماتى شي نو ځکه د جنګ او جګړی په ډګر کښې لتی، بی زړه توب، ويره، توقف، تردد او تيښته خورا(ډير) بد کار دى. پر مسلمانانو باندې لازم او ضرور دى چې د الله تعالىٰ د دښمنانو په ورميږونو وهلو کښې بيره (تلوار) وکړی او د دوی د وينی تويولو څخه وروسته کله چې د هغوى قوت دج(دبدبه) ماته شي او زور ئې پاتې نشي نو هلته د هغوى بندى ساتل هم کافي دى. د جزء ١٠ (الانفال) په نهمه رکوع ٦٧ آيت کښې مونږ داسې يو آيت لولو ﴿ مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَكُونَ لَهُ أَسْرَىٰ حَتَّىٰ يُثْخِنَ فِي الْأَرْضِ ﴾ دا قيد او بند ممکن دی چې د هغوى دپاره يو لوی عبرت او ويښتوب شي او دوی ته د مسلمانانو له دی نژدی والي څخه داسې يوه ګټه(فائده) په لاس ورشي چې په خپل او د مسلمانانو په حال او احوال باندې په ښه شان ځانونه پوه کړی او پخپل ورآندی او وروسته باندې فکر ووهي او ورو ورو هغوى د حق او صداقت لياره غوږه او له اسلامی تعليماتو څخه ګټور شي. بيا که مو مصلحت وشي نو بې له کومې معاوضې د احسان په ډول(طريقه) هغه خوشې کړئ. په دی ډول(طريقه) ښائي چې ډير افراد زمونږ له دی ښو رشو (اخلاقو) څخه متاثر شي او زمونږ د اسلام په لوری راغب وګرځي. او زمونږ له دين سره مينه او محبت پيدا کړی. داسې هم کولی شئ چې نغدی فدئې ورځنې واخلئ يا ئې د مسلمانانو له بنديانو سره مبادله کړئ په دی دوو هر يوی کښې ډيرې ګټې او راز راز(قسم قسم) فائدی شته لنده ئې دا که دا د جنګ کافر بنديان د هغوى د وطن او هيواد په لورى ليږئ دوه صورتونه لرى:
(١): په معاوضه باندې خوشې کول.

(۲): بې له معاوضې پرېښودل. په دې دواړو کښې هر يو چې اسلامي تولواک(باچا) ته ښه ښکارېږي او اصلح وي هم هغه دې غوره او اختيار کړي. زمونږ حنفيانو په مذهب په فتح القدير شامي او نورو لويو کتابونو کښې داسې روايتونه شته که د دې کافرو بنديانو (قيديانو) د دوی د هيواد په لوري بيرته ليږل مصلحت نه وي بيا درې صورتونه لري:

(۱): ذمي دې وګرځول شي او د يوه رعيتي په توګه(طريقه) دې ساتل کيږي.

(۲): ودې وژلې شي

(۳): مريي دې وګرځول شي

په احاديثو کښې د کافرو د بنديانو د وژلو په نسبت ډير ممانعت شوی دی او د هغوی وژل فقط په خاصو وختونو کښې جائز تاکلي(مقرر کړی) شوي دي او هغه هم کله چې هغه کافر بندي (قيدی) د داسې کومې درنې ګناه مرتکب شوی وي چې د هغې جزاء او هيداد په بل کوم شي باندې چې تر وژلو ښخه لږ وي نشي کيدی نو په مريي ګرځولو يا په ذمي درولو کښې هيڅ يو ممانعت نشته.

حَتّٰى تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا ۛ

(جنګ ورسره کوئ) تر هغه پورې چې کيږدي (جنګيالیان د) جنګ وسلې خپلې

**تفسير:** يعنې د دې حرب، ضرب، قيد او بند سلسله به تر هغه پورې جاري وي تر څو چې خپله وسله کيږدي او جګړه بنده شي.

ذٰلِكَ ۛ وَلَوْ يَشَآءُ اللّٰهُ لَانْتَصَرَ مِنْهُمْ وَلٰكِنْ لِّيَبْلُوَا۟ بَعْضَكُمْ بِبَعْضٍ ۗ

دغه (حکم د الله په دوی کښې) دی او که اراده فرمايلې وی الله (د بدل اخيستلو) نو خامخا به بدل اخيستی ؤ الله له دوی څخه (بې له جنګه) وليکن (امر ئې درته وکړ په جهاد له دوی سره) لپاره د دې چې ازموينه وکړي الله د ځينو ستاسو په ځينو نورو (په جنګ کښې)

**تفسير:** يعنې الله قدرت لري چې پر دې کافرانو باندې کوم آسماني عذاب نازل کړي او لکه عاد او ثمود غوندې دوی هم هلاک کړي. خو د جهاد او قتال له مشروعيت څخه د بندګانو امتحان مقصود دی او الله دوی ازموئي چې څوک د الله په پاک نامه باندې خپل نوم، ښښان، ځان مال، اولاد او نور شيان جاروي(قربانوي)؟ او د کفارو په مخکښې څومره مسلمانان له تنبيهي کاروائيو

څخه ویښیږی؟ او څومره کسان له دی مهلت څخه فائده اخلی چی الله تعالیٰ هغوی ته ورکړی دی او هغوی لکه پخوانی قومونه یو ځلی په سزا نه رسوی او نه ئی استیصال کوی.

وَالَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَلَنْ يُّضِلَّ اَعْمَالَهُمْ ۝٤ سَيَهْدِيْهِمْ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ ۝٥

او هغه کسان چی وژلی شوی دی په لیاره د الله کښی پس له سره به ضایع نه کړی (الله) عملونه د دوی ژر به سمه لیاره وښیی دوی ته (الله په دنیا او په آخرت کښی) او ښه به کړی حال د دوی (په دارینو کښی)

**تفسیر:** یعنی هغه کسان چی د الله جل جلاله په لیاره کښی شهیدان کیږی اګر که په ښکاره دول(طریقه) سره دوی پاتی او ناکام په نظر راځی خو په رښتیا سره هغوی بریالیان(کامیاب) دی الله تعالیٰ د هغوی چاری نه ضایع کوی بلکه د کار په پای (آخر) کښی د هغوی هغه ربړونه(تکلیفونه) ګټور کیږی او دوی ته د جنت په لوری لیاره ورکوی او د آخرت په ګردو(ټولو) منازلو او مواقعو او مواقفو کښی د هغه حال ښه کوی.

وَيُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمْ ۝٦

او داخل به کړی (الله) دوی په جنت کښی چی معلوم کړی دی (الله) دغه (جنت) دوی ته

**تفسیر:** یعنی په هغه جنت کښی داخلیږی چی د هغه احوال دوی ته د انبیاؤ علیهم السلام په ژبه او د خپلو صحیحو وجدانو په ذریعه ورښکاره شوی دی ورروسته له دی نه چی هلته ورسیږی هر جنتی د خپلی هستوګنی ځای پخپله پیژنی او د هغه د زړه کشش به په هم هغه لوری وی چی د هغه د هستوګنی دپاره ټاکلی(مقرر) شوی دی.

**تنبیه:** ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه د (عرفها لهم) معنی (طیبها لهم) اخیستی ده. یعنی جنت هغوی ته هسی خوشبوئی ورښندی (ورنولی) چی د هغه د هغو ښو وږمو په وسیله به پیژندګلوی دوی ته آسانیږی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَنصُرُواْ ٱللَّهَ يَنصُرۡكُمۡ وَيُثَبِّتۡ أَقۡدَامَكُمۡ ۝٧

ای هغو کسانو چې ایمان ئې راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو) که مدد ګاری وکړئ تاسی له (دین د الله او رسول د) الله سره نو مدد به وکړی (الله) له تاسی سره (په غلبه پر دښمن) او ثابت به کړی قدمونه ستاسی (په ځای د جنګ)

**تفسیر:** یعنی په جهاد کښې به د الله جل جلاله په مرسته(مدد) ستاسی قدمونه تینګ پاتی کیږی او د اسلام په اطاعت کښې به ثابت قدم اوسیږئ چې د هغه په نتیجه کښې به مو په «صراط» کښې ثابت قدمی په برخه شي. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «که الله جل جلاله وغواړی نو ګرد(تول) کافران به مسلمانیږی خو داسی نه غواړی او خپل بندګان آزموئی خو کله چې بنده خپله ملا وتړی او په یو کار باندی له زړه لاس پوری کړی نو الله جل جلاله هم مرسته(مدد) ورسره کوی».

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَتَعۡسٗا لَّهُمۡ وَأَضَلَّ أَعۡمَٰلَهُمۡ ۝٨

او هغه کسان چې کافران شوی دی پس هلاکوالی شرمول دی دوی ته (له الله) او عبث خراب به کړی (الله خامخا نیک) عملونه د هغوی

**تفسیر:** یعنی هسی چې د مسلمانانو قدمونه تینګوی پرته(علاوه) له هغه د کفارو په پښو کښې ریږدیدل او په زړونو کښې ئې ویره غورځوی. او هسی چې مسلمانانو ته د الله تعالیٰ له لوری مرستی(مدد) رسیږی د کافرانو کارونه خراب او ابته کیږی.

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَرِهُواْ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأَحۡبَطَ أَعۡمَٰلَهُمۡ ۝٩

دغه (هلاکوالی او د دوی د اعمالو تخریب په سبب د دی دی چې) بیشکه هغوی بد ګڼلې دی هغه (قرآن) چې نازل کړی دی الله (پر محمد باندی) پس الله عبث کړل(نیک) عملونه د دوی.

**تفسیر:** یعنی کله چې هغوی د الله جل جلاله خبری نه آوری نو الله تعالیٰ به څرنګه د هغوی کارونه خوښوی. او هغه څیز چې د الله تعالیٰ په دربار کښې نامنلی وی هغه به خوشی چتی(فضول) او بیکاره څیز وی.

أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ دَمَّرَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ ۖ وَلِلْكَافِرِينَ أَمْثَالُهَا ﴿١٠﴾

آیا پس نه گرځي دوی په ځمکه کښې پس چې وګوري دوی (په نظر د عبرت سره) چې څرنګه وو عاقبت آخره خاتمه د هغو کسانو چې پخوا له دوی څخه وو، هلاک راوست الله په دوی باندی او شته دپاره د کافرانو مثلونه (حالونه د هلاکت د پخوانیو کفارو).

**تفسیر:** یعنی په هم دی دنیا کښې وګورئ چې منکرانو ته څه پیښیږی؟ او د هغوی ګرد(تول) تدبیرونه څنګه په ځمکه لویږی؟ آیا په دی ورځو کښې به هغوی لره داسی سزاوی نه ورکولی کیږی؟

ذَٰلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ مَوْلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَأَنَّ الْكَافِرِينَ لَا مَوْلَىٰ لَهُمْ ﴿١١﴾ ع

دغه (نصرت د مؤمنانو اهلاک د کافرانو په سبب د دی دی چې) بیشکه الله دوست مددګار د هغو (کسانو) دی چې ایمان ئې راوړی دی او بیشکه چې کافران نشته (هیڅ) دوست مددګار دوی لره.

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ د مؤمنانو او صالحانو رفیق دی چې په تاکلی(مقرر) وخت کښې له هغوی سره مرستی(مدد ) کوی. د کافرانو هسی ملګری به څوک وی چې د الله تعالیٰ په مخکښې ودریږی. د احد په غزوه کښې به ابوسفیان داسی چغې وهلې «لنا العزیٰ ولا عزیٰ لکم» زمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې تاسی ئې جواب داسی په لوړ(اوچت) غږ سره ووایئ «**الله مولانا ولا مولی لکم**»

إِنَّ اللَّهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۖ وَالَّذِينَ كَفَرُوا يَتَمَتَّعُونَ وَيَأْكُلُونَ كَمَا تَأْكُلُ الْأَنْعَامُ وَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ﴿١٢﴾

بیشکه الله داخل به کړی هغه کسان چې ایمان ئې راوړی دی او کړی ئې دی

ښه (عملونه) په جنتونو کښې چې بهیږی به له لاندی (د ونو او مانیو د هغو څلور قسمه) ویالي او هغه کسان چې کافران شوی دی (لږ) نفع اخلی دوی (په دنیا کښې) او خوراک به کوی لکه چې خوراک کوی چارپایان او اور (د دوزخ) ځای د ورتلو (او کور د اوسیدو دی) دوی لره

**تفسیر:** یعنی د دنیا سامان غونډوی او له ډیر حرص لکه بهائم غوندی ګرځی، خوری او مزی کوی او د خپلو اعمالو له نتایجو څخه نه دی خبر چې د دوی د خوړلو او څښلو پای(آخر) به څه کیږی؟ ښه دی دلته په دنیا کښې دی څو ورځې مزی او چرچې کوی په آخرت کښې دوی ته د اور کور تیار دی.

وَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ هِيَ أَشَدُّ قُوَّةً مِّن قَرْيَتِكَ الَّتِي أَخْرَجَتْكَ أَهْلَكْنَاهُمْ فَلَا نَاصِرَ لَهُمْ ﴿١٣﴾

او ډیر له (اهل د) کلیو نه چې هغوی به ډیر سخت محکم وو له جهته د قوت نه له (اهل د) کلی ستا نه هغه (کلی) چې ئی تری ایستلی ئی ته (ای محمده ! اهل د هغی قریی) هلاک مو کړل هغوی پس نه به ؤ هیڅوک مدد کوونکی هغوی سره (په دفع د عذاب کښې)

**تفسیر:** یعنی هغو قوم ته چې په زور او قوت کښې د مکی معظمی له خلقو څخه ډیر لوړ(اوچت) ؤ سخت هیدادونه او سزاوی ئی ورکری دی. چې د هغوی مرستی(مدد) ته هیڅوک حاضر نه شول. نو بیا دوی به کومی خبری دومره مغرور دی.

**تنبیه:** له ﴿ مِّن قَرْيَتِكَ الَّتِي أَخْرَجَتْكَ ﴾ څخه مراد مکه معظمه ده چې خلقو ئی داسی حرکات وکره چې د هغوی په سبب زمونږ لوی پیغمبر صلی الله علیه وسلم هغه خپل محبوب او مالوف ښار پریښود . په حدیث کښې راغلی دی چې حضرت محمد رسول الله مبارک د وتلو په وخت کښې مکه معظمه ئی مخاطبه کره وی فرمایل «خدائیګو چې ته له ګردو(تولو) ښارونو څخه الله تعالیٰ او ماته محبوبه ئی که زما تبر زه له تا څخه نه ایستلی نو زه به هیڅ کله له تا څخه نه جلا(جدا) کیدم».

أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّهِ كَمَن زُيِّنَ لَهُ سُوءُ عَمَلِهِ وَاتَّبَعُوا أَهْوَاءَهُم ﴿١٤﴾

آیا نو هغه چې وي په ښکاره حجت (لیاری) له (جانبه د) رب خپل نه په شان د هغه دی چې ښائسته کړی شوی دی ده ته ناکاره کار عمل د ده او متابعت ئی کړی وی د هواؤ خپلو (بلکه نه دی سره برابر)

**تفسیر:** یعنی یو سړی په ډیر خلاص زړه سره او په ډیره پوه او بصیرت سره د صداقت په ارت او صاف سړک باندی بی له اندیښنی رهی(روان) دی او بل په تیاره کښی لویدلی درګرده بدرئ کوی (ټکری خوری) او د تور او سپین او د نیکو او بدو هیڅ تمیز نشی کولی تر دی چې له خپلی بی تمیزئ څخه ښه او بد هم نشی پیژندلی او د خواهش په پیروی کښی هسی ډوب تللی دی چې سر له پښو څخه نشی جلا(جدا) کولی نو آیا د دی دواړو پای(آخر) او انجام به یو شان وی؟ داسی به هیڅ کله نه کیږی ځکه چې د حق تعالیٰ د حکمت او د عدل له شان څخه منافی دی.

مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِیْ وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ ؕ فِیْهَاۤ اَنْهٰرٌ مِّنْ مَّآءٍ غَیْرِ اٰسِنٍ ۚ

مثل صفت بیان د جنت هغه چې وعده ئی کړی شوی ده له پرهیزګارانو سره، په هغه کښی ویالی دی له اوبو چې نه به وی بد خوندی (بدلیدونکی په مزه او بوی کښی)

**تفسیر:** یعنی له ډیرو ځنډیدلو (ایساریدلو) یا د کوم شی له ګډیدلو څخه د هغوی بوی او وړم نه خرابیږی له شهدو څخه ډیری خوږی او له شودو څخه ډیری سپینی وی هیڅ ډول(طریقه) تغییر او بدخوندی په کښی نه پیښیږی بلکه تل به صافی خوږی وی.

وَاَنْهٰرٌ مِّنْ لَّبَنٍ لَّمْ یَتَغَیَّرْ طَعْمُهٗ ۚ

او ویالی دی له شودو چې نه به وی متغیری (مزه ئی بلکه صاف او خوندوره ده) مزه د هغو

**تفسیر:** یعنی نه ښائی د هغو قیاس د دنیا په شودو باندی وکړ شی په دی شودو کښی سره له تیریدلو د زیات مدت څه تغییر او فرق نه پیدا کیږی بلکه تل به صافی خوږی وی.

وَاَنْهٰرٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشّٰرِبِیْنَ ۚ۬

او ویالی دی له شرابو چی مزه ورکونکی دی (هغه) څښونکیو ته

**تفسیر:** یعنی د جنت په شرابو کښی به یو صاف لذت او ښه خوند او مزه وی نه په کښی نشه وی او نه ماتیدل، او نه سر ګرځیدل او نه بل کوم تریخ والی او نه څه عیب او نقصان پکښی لیده کیږی.

وَأَنْهَٰرٌ مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّىۖ

او ویالی دی له شاتو (ګبین) صفا کړیو شویو (له خیریو نه)

**تفسیر:** یعنی صاف او شفاف شات چی تکدر چیری حتی د یوه نری ځګ نښه به هم په کښی نه ښکاری.

**تنبیه:** دلته د څلورو قسمو ویالو ذکر شوی دی چی په دوی کښی اوبه داسی یو څیز دی چی د انسان ژوند په هغوی باندی ترلی دی. او شودی د لطیفی غذا کار ورکوی. شراب د خوښی او د نشاط څیز دی. او شهدو ته ئی «شفاء للناس» فرمایلی دی.

وَلَهُمْ فِيهَا مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ

(او شته) دوی ته په دغه (جنت) کښی له هر راز(قسم) میوو

**تفسیر:** له مشروباتو څخه وروسته ئی د دی ماکولاتو ذکر وفرمایه.

وَمَغْفِرَةٌ مِّن رَّبِّهِمْۖ كَمَنْ هُوَ خَٰلِدٌ فِى ٱلنَّارِ وَسُقُوا۟

او مغفرت له (طرفه د) رب د دوی (آیا دغه څښتن (خاوند) د نعمتونو) په شان د هغه دی چی تل دی په اور د دوزخ کښی او ورڅښولی به شی پری

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ د دوی ګردی(تولی) خطاوی ښښی او په جنت کښی به ئی داخلوی. د جنت له ننوتلو څخه وروسته به هیڅ کله د خطاؤ ذکر نه کیږی چی د هغوی د خپګان سبب شی. او وروسته له هغه به هم د کومی خطا پوښتنه تری نه کیږی.

مَآءً حَمِيمًا فَقَطَّعَ أَمْعَآءَهُمْ ﴿١٥﴾

اوبه ډېرى تودى پس پرى به کړى (توتى توتى به کړى دغه اوبه) كولمى د دوى (بلكه دوى سره هيڅكله برابر نه دى)

**تفسير:** يعنى كله چى ايشيدلى اوبه پر دوزخيانو باندى وڅښولى شى نو كولمى به ئى پرى كيږى او د باندى رالويږى. «اعاذناالله منه»

وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ حَتَّىٰٓ إِذَا خَرَجُوا۟ مِنْ عِندِكَ قَالُوا۟ لِلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ مَاذَا قَالَ ءَانِفًا

او ځينى له دغو (كفارو) څخه هغه دى چى غوږ ږدى تاته تر هغه پورى هر كله چى بهر ووځى دوى له نزده د تا څخه نو وائى هغو كسانو ته چى وركړى شوى دى ورلره علم څه وويل (محمد) اوس (په دى ساعت كښى)

**تفسير:** پورته د مؤمنانو او د كافرانو حال بيان شو. په دى آيت كښى د هغه راز(قسم) كافرانو حال بيانيږى چى هغه ته منافق وايه شى يعنى په ښكاره ځان په مسلمانانو كښى ګډوى او په پته كښى له هغه څخه انحراف كوى. يعنى دا خلق په ښكاره ډول(طريقه) د پيغمبر صلى الله عليه وسلم خبرى ته غوږ نيسى خو په زړه كښى ورته توجه نه كوى او نه ئى په يادوى او نه پرى پوهيږى، كله چى له مجلس څخه د باندى ووځى نو پوهانو ته وائى چى دغه سرى حضرت محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم اوس څه وويل؟ ښائى له دى پوښتنى څخه به د دى خبرى تعريض وى چى مونږ د هغه خبرى د اعتناء وړ(لائق) نه بولو او غوږ ورته نه ږدو او نه ورته متوجه كيږو. يا څه حكم ئى وفرمايه زمونږ ورته ښه فكر نه وو يا خو مونږ پرى هيڅ پوه نشو.

أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ وَٱتَّبَعُوٓا۟ أَهْوَآءَهُمْ ﴿١٦﴾

دوى هغه كسان دى چى مهر وهلى دى الله په زړونو د دوى (چى تينګ په كفر ولاړ دى) او متابعت كړى دى دوى د هواؤ خپلو (په نفاق كښى)

**تفسير:** يعنى د دى راز(قسم) نالائقو حركتونو اثر او اغيزه دا كيږى چى الله تعالىٰ د هغوى په زړونو باندى مهر لګوى او بيا دوى ته د نيكى توفيق هيڅ نه پاتى كيږى او يواځى پر خپلو

غوښتلو (خواهشو) پسې درومي او پیروي ئې کوي.

وَالَّذِيْنَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى وَّاٰتٰهُمْ تَقْوٰىهُمْ ﴿١٧﴾

او هر څه هغه کسان چې سمه لیاره ئې موندلې ده زیات کړی دی دوی ته (الله یا قرآن) هدایت بصیرت او ورکړی ده (الله) دوی ته پرهیزګاری د دوی.

**تفسیر:** یعني د هدایت د لیاري د تګ اثر او اغیزه دا کیږي چې سړی ورځ په ورځ په هدایت کښې ترقي او پرمخ تګ کوي او د هغه پوه، سد (هوش)، عقل، پرهیزګاري او اتقاء زیاتیږي.

فَهَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّا السَّاعَةَ اَنْ تَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً ۚ فَقَدْ جَآءَ
اَشْرَاطُهَا ۚ فَاَنّٰى لَهُمْ اِذَا جَآءَتْهُمْ ذِكْرٰىهُمْ ﴿١٨﴾

پس انتظار نه کوي دوی مګر د قیامت چې رابه شي دوی ته ناڅاپه نو په تحقیق راغلې دي علامې نښې د هغه (قیامت) پس بیا څرنګه به (نفع ورسوي) دوی ته هغه وخت چې راشي دوی ته (قیامت) پند آخیستل توبه ایستل د دوی.

**تفسیر:** یعني د قرآن نصیحتونه، د پخوانیو قومونو عبرت لرونکي قصې، د جنت وعدې، او د دوزخ وعیدونه ئې ګرد(تول) واوریدل اوس د هغو د منلو دپاره د کوم وخت په انتظار کښې دي؟ آیا دې خبرې ته دوی سترګې نیولې دي چې قیامت ناڅاپه د دوی په سر باندې ودریږي؟ د قیامت څو علامې او نښې څو اوس هم راښکاره شوي دي خو کله چې پخپله قیامت راودریږي نو هلته به دوی ته د پوهنې د حاصلولو وخت کله پاتې وي، یعني د هغه وخت منل او پوهیدل چتي(فضول) او بیکاره دي ځکه چې په هغه باندې نجات او ژغوریدل(بچ کیدل) نه حاصلیږي. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکي «د قیامت علامه او لویه نښه زمونږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم پیدا کیدل دي، چې ګرد(تول) پیغمبران د هغوی په انتظار کښې وو. کله چې دوی مبعوث وګرځیدل او د تخلیق اصلي مقصود حاصل شو نو اوس یوازې د قیامت راتګ پاتې دي» په حدیث کښې راغلي دي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم خپله مسواکه ګوته «انګشت شهادت» او منځنۍ ګوته «انګشت وسطی» سره درولې او هغوی ته ئې اشاره کړې وئې فرمایل «**انا والساعة کهاتین**، زه او قیامت لکه داسې یو» ګواکې زه له قیامت څخه دومره وړاندې راغلی یم لکه چې منځنۍ ګوته له مسواکې ګوتې څخه جګه (وچته) ختلې ده د «صحیح مسلم»

په شرح کښې مونږ په دې باندې پوره ليکل کړی دی. دلته د هغه د بيا ليکلو ځای نشته.

فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ

نو پوه شه (ای مخاطبه) شان دا دی چې نشته هيڅ برحق معبود مګر يواځې الله دی او مغفرت بښنه غواړه د ګناه خپلې او دپاره د مؤمنانو سړيو او مؤمناتو ښځو

**تفسير:** د هر سړی ذنب (ګناه) د هغه له مرتبې سره سمه وی د کوم کار ډيره ښه خوا پريښودل او لږه ښه خوا غوره کول که څه هم د جواز او د استحسان مرتبه ولری ځينې اوقات د مقربينو په حق کښې ذنب (ګناه) ګڼل کيږی د «**حسنات الابرار سيئات المقربين**» معنی هم دا ده. په حديث کښې راغلی دی چې «نبی کريم صلی الله عليه وسلم به د ورځې سل کرته استغفار فرمايه».

**تنبيه:** د ﴿ فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ﴾ خطاب هر يوه مخاطب لره دی که خاص نبی کريم صلی الله عليه وسلم مخاطب وی نو مطلب ئې داسې دی چې پر هغه علم باندې ټينګ او قائم اوسه! او تل استغفار وايه!، د «فاعلم» تفريع له ما قبل څخه داسې کاوه شی چې د قيامت له راتګ څخه وروسته هيڅا ته ايمان راوړل توبه کول او نور څه ګټه(فائده) نه رسوی نو هر چا لره ښائی چه د قيامت له راتګ څخه پخوا صحيح معرفت حاصل کړی د ايمان او د استغفار په طريقې باندې مستقيم اوسی.

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوٰىكُمْ ﴿١٩﴾

او الله ته معلوم دی ځای د ګرځيدلو ستاسې (په ورځ کښې يا په دنيا کښې) او ځای د هستوګنې ستاسې (په شپه کښې يا په آخرت کښې)

**تفسير:** په هومره پردو کښې چې وګرځې بيا به جنت يا دوزخ ته ورسيږی چې هغه ستاسو اصلی ځای او کور دی.

وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَوْلَا نُزِّلَتْ سُوْرَةٌ

او وائی هغه کسان چې ايمان ئې راوړی دی ولې نه نازلوه کيږی يو سورت (د قرآن په باب د قتال د کفارو سره)

**تفسير:** داسي يو سورت چي په هغه کښي د جهاد اجازه وي.

فَإِذَآ أُنزِلَتۡ سُورَةٞ مُّحۡكَمَةٞ

نو پس کله چي نازل کړ شي يو سورت محکم

**تفسير:** په داسي محکمو او مضبوطو او تاکليو حکمونو باندي مشتمل وي چي نه وي منسوخ شوي او پوره پخپل مهال (وخت) سم راښکته کيږي او معنى ئې دغسي ظاهريږي چي پکښي بل احتمال نه وي غير له قتاله.

وَذُكِرَ فِيهَا ٱلۡقِتَالُ رَأَيۡتَ ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ يَنظُرُونَ إِلَيۡكَ نَظَرَ ٱلۡمَغۡشِيِّ عَلَيۡهِ مِنَ ٱلۡمَوۡتِۖ فَأَوۡلَىٰ لَهُمۡ ٢٠

او ياد کړي شوي وي په هغه کښي جنگ نوويني به ته هغه کسان چي وي په زړونو د دوی کښي ناروغي (د نفاق) گوري تاته لکه کتنه د هغه چا چي بيخودي راغلي وي پر هغه باندي له ويري د مرگ نه پس هلاک دي وي دوی لره

**تفسير:** حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليکي «مسلمانانو سورت غوښت يعني د کافرانو له ربړونو(تکليفونو) څخه چي دير په تکليف و هيلي (اميدونه) به ئې کولي که الله جل جلاله د جهاد امر راکړي نو هغه چي زمونږ له لاسه کيدی شي هغه به مونږ وکړو کله چي د جهاد امر راغلی، نو پر منافقانو او خامو خلقو باندي دروند شو په ويريدلو او تيغو ختليو سترگو سره به ئې پيغمبر ته کتل او د حال په ژبي سره به ئې ويل «کاشکي مونږ له دی امر څخه معاف اوسو!» په زياته ويره کښي د سترگو رونق او ښائستوالي نه پاتي کيږي لکه چي د ځنکدن په وخت کښي د سترگو نور ورک کيږي.

طَاعَةٞ وَقَوۡلٞ مَّعۡرُوفٞۚ فَإِذَا عَزَمَ ٱلۡأَمۡرُ فَلَوۡ صَدَقُواْ ٱللَّهَ لَكَانَ خَيۡرٗا لَّهُمۡ ٢١

طاعت کول (د دوی الله ته ) او خبره نيکه کول (تاته غوره دی دوی ته) پس

هر کله چې فرض شي کار (د جهاد) پس که چيرې رښتيا ويل کړې وې دوی له الله سره (په اظهار د حرص جهاد ته) نو خامخا به وو دغه رښتيا ويل بهتر دوی ته

**تفسير:** په ښکاره سره دا خلق امر مني او په خپلو ژبو سره په اسلام او د هغه په احکامو باندی اقرار کوی مګر د کار خبره دا ده چې ښائی په عمل سره هم هغوی د الله او د رسول هر امر ومنی ښی او معقولی خبری وکړی او بيا د جهاد او د نورو زوررو کارونو په مهال (وخت) کښی د الله جل جلاله رښتينی بندګان ثابت شي نو دا صورت به د هغوی د ښيګنی (فايدی) او بهتری وی. حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليکی «يعنی د شرعی حکم له نه منلو څخه کافريږی، د الله جل جلاله امر په هر صورت کښی ښائی ومانه شي بيا پيغمبر صلی الله عليه وسلم هم پوهيږی چې دارن سری به څرنګه توره وکړی؟ هو! کله چې زيات تاکيد وکړ شي نو هلته جنګيدل ضروری دی که نه جنګيدونکی ډير دی».

فَهَلۡ عَسَيۡتُمۡ إِن تَوَلَّيۡتُمۡ أَن تُفۡسِدُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَتُقَطِّعُوٓاْ أَرۡحَامَكُمۡ ﴿٢٢﴾

پس آيا نژدی ئی تاسی (ای منافقانو) که چيرې بادشاهان او متصرفان شی يا وګرځيدی (له طاعته د الله او سنت د رسول الله) نژدی ئی دی ته چې فساد به کوی. په ځمکه کښی او پری به کړی تاسی (خپلولی او) قرابتونه خپل

**تفسير:** د حکومت او اقتدار په نشه کښی خلق په عمومی ډول(طريقه) په اعتدال او انصاف باندی قائم نه پاتی کيږی او د دوی دنيوی حرص لا زياتيږی بيا د مال او د جاه په کشمکش کښی د غرض خوښولو جګړی پيدا کيږی چې د هغه وروستنی نتيجه داسی شي چې په دنيا کښی عمومی فتنه او فساد پورته کيږی او يو له بل څخه خپل تعلقات او اړيکی پری کوی. حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليکی «يعنی له خپل ځان په تنګ کيږی او د جهاد آرزو کوی نو که الله تعالىٰ هم دا تاسی غالب کړی او بری درکړی نو فسادونه به وکړی»

**تنبيه:** محقق شيخ الهند قدس الله روحه د «توليتم» ترجمه په حکومت رسيدلو سره کړی ده لکه چې د ډيرو مفسرينو هم دا رايه ده نورو علماؤ د «تولی» معنی اعراض اخيستی او داسی ئی مطلب اخلی «که تاسی د الله جل جلاله په لياره کښی له جهاد کولو څخه مخ واړوی، نو ښکاره ده چې په دنيا کښی به امن او انصاف پاتی نشی او په ښکاره ډول(طريقه) به د فساد، بدامنی او ناراحتی دوره کيږی» ځينی ئی داسی تفسير کوی که تاسی له ايمان راوړلو څخه مخ واړوی

نو د جاهلیت د زمانی کیفیت به بیرته راوګرځی او هغه خرابی او فسادونه چې په هغه وخت کښې وو او په ډیرې وړوکې خبرې باندې به لوئې جګړې او شخړې کیدې مړې پرې کیدې.
اړیکی به سره لرې کیدې اوس به بیا همغه نقشې قائمیږی که په دې آیت کښې خاص منافقینو ته خطاب ومانه شی نو داسی ئې هم مطلب کیدی شی که له جهاد څخه مخ واړوی له تاسی ځنې هم دا هیله(امید) کیدی شی چې له خپلو منافقانه ؤ شرارتونو څخه په ملک کښې شرارتونه خواره کړی او د هغو مسلمانونو چې له تاسی سره ئې خپلوی ده هیڅ پروا ونه کړی او په ښکاره دول(طریقه) د کافرانو مدد وکړی.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فَأَصَمَّهُمْ وَأَعْمَىٰ أَبْصَارَهُمْ ﴿٢٣﴾

دا (مفسدان) هغه کسان دی چې لرې کړی دی دوی الله (له رحمت) پس نو کانه کړی ئې دی دوی (له آوریدلو د حق نه) او ړندی کړی ئې دی سترګی د دوی (له لیدلو د حق نه)

**تفسیر:** د حکومت په غرور کښې کانه او ړانده شوی ظلم کوی او ضرر رسوی او د نورو په پوهولو هم پخپل خیر او شر باندې نه پوهیږی. د الله جل جلاله له لعنت څخه بالکل سنګدل او کلک زړه ګرځیدلی دی او دا ټول د هغوی د بد اختیار او د استعداد له قصوره ډګر ته راوتلی دی.

أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ أَمْ عَلَىٰ قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا ﴿٢٤﴾

آیا فکر نه کوی دوی په قرآن کښې بلکه پر زړونو (د دوی باندې) قفلونه د زړونو د دوی دی

**تفسیر:** منافق په قرآن کښې غور نه کوی یا د هغوی د شرارتونو لامله(له وجې) د هغوی پر زړونو باندې مهر او قفل لګیدلی دی چې د نصیحت د تللو لیاره بنده شوی ده که د قرآن د پوهیدلو توفیق د دوی په برخه وی نو په آسانی سره به پوهیدل چې په جهاد کښې څومره اخروی او دنیوی ګټې شته.

إِنَّ الَّذِينَ ارْتَدُّوا عَلَىٰ أَدْبَارِهِمْ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَى ۙ الشَّيْطَانُ سَوَّلَ لَهُمْ وَأَمْلَىٰ لَهُمْ ﴿٢٥﴾

بیشکه هغه کسان چی بیرته گرځیدلی دی (له ایمانه) پر شاؤ خپلو پس له هغی څخه چی ښکاره شوی ده دوی ته سمه لیاره شیطان ښایسته کړی دی دوی ته (گناهونه) او مهلت ښکاره کړی دی (شیطان) دوی ته

**تفسیر:** منافقان وروسته د اسلام له اقراره او د هغه د ریښتیا گڼلو له اعتراف څخه کله چی د ازموینی وخت راشی د خپل قول او اقرار څخه غاړه غړوی، او په جهاد کښی له مسلمانانو سره ملگرتوب نه کوی. شیطان هغوی ته دا خبره ورښوولی ده چی که جنگ ته لاړ نشی تر دیر مدت پوری به ژوندون کوی. نو خامخا به د جنگ له ورتگه او په هغه کښی له مړ کیدلو څخه څه گټه(فائده) دررسیږی. او معلوم نه دی چی دوی پخپلو زړونو کښی څه څه شیان سنجولی (غوره کړی) دی؟ او څومره اوږدی وعدی او خوږی خبری ئی تر سترگو لاندی نیولی دی ﴿وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطٰنُ اِلَّا غُرُوْرًا﴾

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْا لِلَّذِيْنَ كَرِهُوْا مَا نَزَّلَ اللّٰهُ سَنُطِيْعُكُمْ فِيْ بَعْضِ الْاَمْرِۚ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِسْرَارَهُمْ ﴿٢٦﴾

دغه (مهلت دوی ته په سبب د دی دی چی) بیشکه دوی وویل هغو کسانو ته چی بد ئی گڼله هغه (قرآن) چی رالیږلی دی الله ژر به حکم ومنو ستاسی (او فرمانبرداری به وکړو) په ځینو کارونو کښی (چی مرسته(مدد) ده په جنگ او عداوت د رسول الله کښی) او الله ته معلومی دی پټی خبری (او مشوری) د دوی هم

**تفسیر:** منافقانو به له یهودانو او کافرانو سره ویل که څه هم مونږ په ښکاره دول(طریقه) سره مسلمانان شوی یو خو مونږ به له مسلمانانو سره نه یو ځای کیږو او نه به د هغوی په مرسته(مدد) جنگ کړو. بلکه که مو د لاسه وشو ستاسی سره به مرستی(مدد) وکړو او په گردو(تولو) چارو کښی به مونږ ستاسی خبرو ته غوږ یږدو.

فَكَيْفَ اِذَا تَوَفَّتْهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ يَضْرِبُوْنَ وُجُوْهَهُمْ وَاَدْبَارَهُمْ ﴿٢٧﴾

نو څرنګه به وی (حال د دوی) کله چې قبض کوی دوی لره پرښتې (سا ئې راکاږی) وهی به دوی مخونه د دوی او شاګانې د دوی

**تفسیر:** په هغه وخت کښې به له موت څخه څرنګه خلاصیږی بیشکه په هغه وخت کښې به د نفاق خوند څکی.

ذٰلِكَ بِأَنَّهُمُ اتَّبَعُوا مَآ أَسْخَطَ اللّٰهَ وَكَرِهُوا رِضْوَانَهُ فَأَحْبَطَ أَعْمَالَهُمْ ﴿٢٨﴾

دغه (سا وښکل د دوی په دغه سختې سره په سبب د دی دی چې) بیشکه دوی متابعت کړی وو د هغه شي چې په غضب کاوه به ئې الله او بده ئې ګڼله خوښی د دغه (الله) پس ابته (ضائع) خراب کړل (الله نیک) عملونه د دوی.

**تفسیر:** د الله جل جلاله د خوښولو لیاره ئې نه ده خوښه کړې او په هغې لیاری باندی ئې تګ کړی دی چې د هغه نه وه خوښه ځکه د مړ کیدلو په وخت کښې داریدونکې، او اوتر ښکاریده او الله تعالیٰ د هغه کفر او طغیان په سبب د هغه ګرد(تول) عملونه بیکاره کړل او هیڅ یو عمل هغه ته په بل ژوندون کښې ګټه (فائده) ونه رسوله.

أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ أَن لَّن يُخْرِجَ اللّٰهُ أَضْغَانَهُمْ ﴿٢٩﴾

آیا ګمان کوی هغه کسان چې په زړونو د دوی کښې ناروغی (د شک او د نفاق) ده چې نه به ښکاروی الله تعالیٰ پټی کینې د دوی له مؤمنانو سره بلکه ظاهر به ئې کړی

**تفسیر:** منافقان پخپلو زړونو کښې له اسلام او مسلمانانو سره حسد او ډیر عداوتونه لری. او له هغوی سره هندی (دښمنی) او کینې کوی. آیا دوی داسې خیال کوی چې دا به د هغوی په زړونو کښې پټ پاتې کیږی؟ او الله تعالیٰ به هغه نه ښکاروی او مسلمانان به د هغوی په مکر او فریب باندی نه خبریږی؟ هیڅ کله به داسې نه کیږی! بلکه د هغوی د باطن خبث به هرومرو(خامخا) ښکاریږی او د ازموینې په داسې بهټی کښې به اچول کیږی چې هلته به تولې ککړتیا او خیری له پاکو شیانو څخه جلا(جدا) کیږی.

وَلَوْ نَشَآءُ لَاَرَيْنٰكَهُمْ فَلَعَرَفْتَهُمْ بِسِيْمٰهُمْ ؕ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِيْ لَحْنِ الْقَوْلِ ؕ

او كه اراده وفرمايو موږ نو خامخا به وښيو موږ تاته دغه كسان نو خامخا وبه پيژنې ته دوى په (علامو د) څيرو د دوى او (قسم دى چې) خامخا وبه پيژنې ته دوى په ګرځولو اړولو د خبرو كښې

**تفسير:** كه الله تعالىٰ اراده وفرمائى نو ګرد(ټول) منافقان به فرداً فرداً وتاكى(مقرر كړى) او تاته به ئې دروښيي او نامه په نامه به ئې درڅرګند كړى، چې په دى مركه كښې دغه او هغه سړى منافقان دى. خو د الله تعالىٰ بالفعل حكمت د داسې سپينو ويلو متقاضى نه دى. برسيره په دى الله تعالىٰ تاسې ته اعلىٰ درجه د فراست نور او رڼا(رڼرا) دربښلى دى چې تاسو هغوى له څيرى او بشرى څخه پيژنې او وروسته له دى څخه هغه خلق د خبرو اترو او د وينا له ډوله هم پيژندلى شى ځكه چې د منافقانو او د مخلصانو د خبرو كولو او ويلو لهجه او د ګفتګو چل سره جلا(جدا) وى. هغه زور شوكت او د خلوص رنګ چې د مخلصانو له خبرى څخه له لرى ښكارى هغه د منافقانو په خبرو كښې هيڅ نه وى.

**تنبيه:** محقق شيخ الهند قدس الله روحه ﴿ فَلَعَرَفْتَهُمْ ﴾ تر ﴿ وَلَوْ نَشَآءُ ﴾ لاندى نه دى ايښى او نورو ګردو(ټولو) مفسرينو هغه تر «لو نشاء» لاندى ايښى دى او په «لارينا كهم» باندى متفرع كړى دى يعنى كه موږ اراده وفرمايو نو تاسې ته هغه سړى دربښوولى شو بيا به نو ته هغوى وپيژنې د څيرى په ليدلو سره له دى د دى احقر په خيال سره د شيخ الهند رحمة الله عليه تفسير زيات لطيف دى والله اعلم. له ځينو احاديثو څخه ثابت دى چې زموږ پيغمبر صلى الله عليه وسلم ډير منافقان د دوى په نامه سره وبلل او له خپلى مركى څخه ئې وشړل ښائى چې دا پيژندګلوى د «لحن القول» او د «سيما» او له نورو څخه ورڅرګند(ورښكاره) شوى وى يا وروسته له دى آيت څخه الله تعالىٰ د ځينو منافقانو نومونه په تفصيل سره وربښوولى وى. والله اعلم.

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اَعْمَالَكُمْ ﴿۳۰﴾

او الله ته معلوم دى ټول اعمال ستاسى.

**تفسير:** له بندګانو څخه د كومى خبرى پټيدل امكان لرى، مګر الله تعالىٰ ته ستاسى ګردى(ټولى) چارى كه پټى وى كه څرګندى وى ورښكاره دى.

وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتّٰى نَعْلَمَ الْمُجٰهِدِيْنَ مِنْكُمْ وَالصّٰبِرِيْنَ ۙ

خامخا او هرومرو(لازماً) مو آزمویو تاسی (په جهاد او نورو تکالیفو سره) تر هغه پورې چې ظاهر کړو مونږ جنګ کوونکي له تاسي څخه او صبر کوونکي (په جهاد او په نورو احکامو او تکالیفو د اسلام کښې)

**تفسیر:** د جهاد او د نورو شیانو د احکامو ازموینه مقصود ده په هم دې سختې ازموینې کښې دا ښکاروې چې کوم کسان د الله تعالیٰ په لیاره کښې خپلې وینې تویوي؟ او په دیره سخته ازموینه کښې ثابت قدم دریږي؟ او کوم سړي ترې تښتي؟ او هغه په ښه شان سره جلا(جدا) کړو او تاسو ته ئې درښکاره کړو.

﴿وَنَبْلُوَا۟ أَخْبَارَكُمْ ۝٣١﴾

او ازمویو مونږ عملونه حالونه خبرونه ستاسي (د ایمان چې آیا رښتیا ده که دروغ؟)

**تفسیر:** د هر سړي د ایمان، اطاعت او د انقیاد تول (وزن) معلومیږي او د ګردو(تولو) داخلي خبرې عملاً محققې کیږي؟

**تنبیه:** پر ﴿حَتّٰى نَعْلَمَ﴾ الآیة ـ باندې هغه شبهه چې د علم د حدوث په نسبت کیږي د هغه مفصل جواب د «سیقول» د (٢ جزء) په شروع کښې د ﴿إِلَّا لِنَعْلَمَ مَن يَتَّبِعُ الرَّسُولَ﴾ الآیة ـ کښې دې وکوت شي.

﴿إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ وَشَاقُّوا الرَّسُولَ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَىٰ لَن يَضُرُّوا اللَّهَ شَيْئًا وَسَيُحْبِطُ أَعْمَالَهُمْ ۝٣٢﴾

بیشکه هغه کسان چې کافران شوي دي او منع کوي یعني راګرځوي نور (خلق) له لیارې د الله څخه او مخالفت کوي له رسول سره پس له هغه چې ښکاره شوه دوی ته لیاره سمه له سره به ضرر ونه رسوي دوی الله ته هیڅ شي او ژر ده چې ابته (ضائع) خراب به کړي (الله ـ نیک) عملونه د دوی.

**تفسیر:** د خپلو ځانونو نقصان کوي الله تعالیٰ ته په دې کښې څه نقصان نشته نه د هغه دین او نه د هغه پیغمبر څه خرابولې شي. هغه قدرت لرونکي الله تعالیٰ د هغوی ګردي(تولي)

پلمی(تدبیرونه) (حیلی) ورخرابوی او تولی داسی چاری ړنگوی او د هغوی زیارونه (کوششونه) ورانوی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَلَا تُبْطِلُوٓاْ أَعْمَٰلَكُمْ ﴿٣٣﴾

ای هغو کسانو چی ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مومنانو) اطاعت کوی د الله او اطاعت کوی د رسول الله او مه باطلوی تاسی عملونه خپل (په معاصیو سره)

تفسیر: په جهاد یا د الله په لیاره کښی بل کوم محنت او ریاضت هلته منلی او مقبول کیږی چی د الله او د رسول الله له احکامو سره سم وی. او یواځی پخپل شوق، ذوق، خواهش او د طبیعت په غوښتنی سره نه وی، که نه داسی عملونه بیکاره او ابته (خراب) کیږی او توی ځی او ضائع کیږی هیڅ یو مسلمان داسی کار نه کوی چی د هغه کوم ښه کار توی لاړ شی یا له کوم سببه ضائع او بیکاره شی. مسلمان هیچیری خپل ښه کار په سپیره داګ میدان نه پریږدی نه ریا، ښوونه، ننداره اعجاب، غرور او نورو شیانو ته په هغه کښی لیار ورکوی چی په هر یوه کښی له دوی څخه د هغه عمل بالکل ضائع او بیکاره کیږی ګواکی دا شیان هم هغسی چی ارتداد د مرتد ګرد(تول) حسنه اعمال خرابوی د یوه مسلمان صالحه چاری ورانوی (العیاذ بالله)

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ثُمَّ مَاتُواْ وَهُمْ
كُفَّارٌ فَلَن يَغْفِرَ ٱللَّهُ لَهُمْ ﴿٣٤﴾

بیشکه هغه کسان چی کافران شوی دی او منع کوی (خلق) یا منع راوړی له لیاری د الله نه بیا مړه شی او دوی کافران وی پس له سره به مغفرت ونه کړی الله دوی ته.

تفسیر: هیڅ یو کافر د الله تعالیٰ له خوا نه بخښل کیږی په تیره بیا هغه کافران چی نور خلق د الله تعالیٰ له لیاری څخه ګرځوی او تل په هم دی پسی لویدلی وی چی څوک د نبی الله د لیاری په لوری لاړ نشی.

فَلَا تَهِنُواْ وَتَدْعُوٓاْ إِلَى ٱلسَّلْمِ

پس سستی مه کوئ او مه ضعیفان کیږی (په جهاد) کښې او مه غواړی تاسی (کفار) روغی ته (بلکه جنګ ورسره کوی)

**تفسیر:** مسلمانانو ته ښائی چې د کفارو په مقابله کښې سست او کم همت نشی! او د جنګ له سختیو څخه ونه ویریږی او د جهاد په موقع کښې د روغی په لوری ونه ځغلی! که نه دښمن زړور کیږی او په تاسی باندی به خپل ډیر زور او قوت غورځوی او د اسلام تولی به مغلوب او رسوا کیږی. هو! کله چې د اسلام مصلحت او د مسلمانانو ښیګڼی(فائدی) تر سترګو لاندی وی نو هلته روغه بده نه ده لکه چې وروسته د «الفتح» په سورت کښې راځی په هر حال د روغی بنا ښائی پخپل کم همتی او نامردی باندی نه وی.

وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ وَاللَّهُ مَعَكُمْ وَلَن يَتِرَكُمْ أَعْمَالَكُمْ ﴿٣٥﴾

حال دا چې هم دا تاسی غالب ئی ای مومنانو! پر منکرانو باندی او الله له تاسی سره دی (په ثابت نصرت کښې) او له سره به ناقص او ضائع نه کړی له تاسی عملونه ستاسی (بلکه په قیامت کښې به پوره جزاء درکړی)

**تفسیر:** د ویریدلو هیڅ یوه خبره نه ده که صبر او استقلال وښیی او د الله تعالیٰ په احکامو باندی ثابت قدم واوسی نو الله له تاسی سره دی او هغه به پای(آخر) کښې تاسی ته بری درکوی او په هیڅ حال کښې تاسی ته نقصان او خساره نه درپیښوی.

إِنَّمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ وَإِن تُؤْمِنُوا وَتَتَّقُوا يُؤْتِكُمْ أُجُورَكُمْ وَلَا يَسْأَلْكُمْ أَمْوَالَكُمْ ﴿٣٦﴾

بیشکه دا ژوندون لږ خسیسی لوبی او مشغولیده دی، او که ایمان راوړی تاسی او پرهیز وکړی (له معاصیو)! در به کړی تاسی ته (الله) اجرونه ستاسی او نه به غواړی له تاسی (تول) مالونه ستاسی (بلکه مفروضه زکوة درڅخه آخلی، یا نه به غواړی له تاسی هیڅ مالونه د تاسی ځکه چې غنی دی)

**تفسیر:** د آخرت په مقابل کښې د دنیا حقیقت د یوی لوبی او تماشی غوندی دی که تاسی ایمان او تقویٰ غوره کړی او له دی لوبو او تماشو څخه لږ خپل ځانونه وژغوری (وساتی) نو الله

تعالیٰ به د هغه بدل تاسی ته پوره درکوی او ستاسی مال به هم له تاسی څخه نه غواړی. هغه مال ته هیڅ اړ (مجبور) نه دی. دی پخپله مال درکوونکی دی لکه چی فرمائی ﴿ مَآ اُرِيۡدُ مِنۡهُمۡ مِّنۡ رِّزۡقٍ وَّمَآ اُرِيۡدُ اَنۡ يُّطۡعِمُوۡنِ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الۡقُوَّةِ الۡمَتِيۡنُ ﴾ جزء ٢٧ (د ذاریات ٣ رکوع) ٥٧ - ٥٨ آیت که ئی وغواړی نو حقیقی مالک ئی دی او ګرد(تول) مال او شته د ده دی خو سره د دی که د دین په معامله کښی کله چی د خرڅ کولو امر دوی ته کیږی نو د تول مال غوښتنه له دوی څخنی نه کیږی بلکه یوه لږه برخه تری طلب کیږی هغه هم ځان ته نه بلکه د دوی د ګټی دپاره. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «حق تعالیٰ ملک فتح کړی دی مسلمانانو لره که د دوی څو ورځی له خپل جیبه څخه پولونه (رقمونه) خرڅ شول. بیا د هغه په مقابل کښی سل سل چنده د هغوی په لاس کښی ورغلل. داسی خبری په قرآن کریم کښی څو ځایه راغلی دی چی «تاسی الله ته حسنه قرض ورکړی!»

---

﴿ اِنۡ يَّسۡـَٔلۡكُمُوۡهَا فَيُحۡفِكُمۡ تَبۡخَلُوۡا وَيُخۡرِجۡ اَضۡغَانَكُمۡ ۝٣٧ ﴾

---

که وغواړی دی له تاسی څخه هغه (مال) پس ښه کوښښ وکړی په غوښتلو کښی (له تاسی) نو بخل به وکړی تاسو (په دغی سره) او راو به باسی (په دغو غوښتلو یا بخل سره) پټی کینی دښمنی ستاسی (له اهل اسلام سره).

---

**تفسیر:** که الله تعالیٰ په سختی سره د هغوی ګرد(تول) مال وغواړی چی هغوی ته ئی وربښلی دی نو څومره د الله بندګان به وی چی په خلاص زړه او روڼ تندی د دی امر په مقابل کښی (لبیک) ووائی زیاتره به هغه سری وی چی د بخل او تنګدستی ثبوت ښکاره کوی او د مال ښندلو (لګولو) په وخت کښی به د هغوی د زړونو خپګان له لری ښکاریږی.

---

﴿ هٰۤاَنۡتُمۡ هٰۤؤُلَآءِ تُدۡعَوۡنَ لِتُنۡفِقُوۡا فِىۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ‌ۚ ﴾

---

واوری خبردار شی تاسی چی ئی ای دغو کسانو چی بللی شوی ئی لپاره د دی چی نفقه کړی مال ولګوی په لیاره د الله کښی (په هغو طریقو سره چی فرض کړی ئی دی په تاسی لکه زکوٰة او جهاد)

---

**تفسیر:** یوه برخه د الله له ورکړی شوی مال څخه د ده په لیاره کښی د خپلی ګټی دپاره ولګوی !.

---

﴿ فَمِنۡكُمۡ مَّنۡ يَّبۡخَلُ‌ۚ وَمَنۡ يَّبۡخَلۡ فَاِنَّمَا يَبۡخَلُ عَنۡ نَّفۡسِهٖ‌ؕ ﴾

پس ځینی له تاسو هغه دی چی بخل کوی (نه لګوی مال) او هغه څوک چی بخل کوی مال نه لګوی نو بیشکه چی بخل کوی خپل ځان ته (چی محرومول ئی له ثوابه)

**تفسیر:** ستاسی دنیا ستاسی د فائدی دپاره ده که ئی نه ورکوی نو د خپل ځان نقصان کوی الله تعالیٰ ستاسی د ورکولو او د نه ورکولو هیڅ پروا نه لری.

وَاللّٰهُ الْغَنِيُّ وَاَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ

او الله غنی بی پروا دی (له نفقی د تاسی او له هر څیزه) او تاسی فقیران محتاجان ئی (الله ته)

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی د مال د ښندلو (لګولو) هغه تاکیدونه چی تاسی ئی آوری داسی خیال ونه کړی چی الله تعالیٰ یا د هغه رسول له تاسی څخه سؤالونه کوی. داسی نه دی دا ګردی(تولی) ویناوی د تاسی د ښیګڼی(فائدی) دپاره دی. بیا د یوه په مقابل کښی په زرګونو عوضونه تاسی ته رسیږی که تاسی له داسی ګټی څخه مخ اړوی نو الله تعالیٰ او د هغه رسول ستاسی څه پروا نه لری.

وَاِنْ تَتَوَلَّوْا یَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَیْرَكُمْ ثُمَّ لَا یَكُوْنُوْٓا اَمْثَالَكُمْ ﴿۳۸﴾

او که وګرځیدی تاسی (له ایمان او سخا نه نو الله) به بدل راولی یو قوم بل بی له تاسی بیا به نه وی هغوی پشان د تاسی (ګرځیدونکی له احکامو د الله بلکه فرمان بردار به وی).

**تفسیر:** الله تعالیٰ به هغه حکمت او مصلحت چی خپلو بندګانو ته د خرڅ کولو امر ورکوی د هغه حاصل کیدل پر تاسی باندی څه انحصار نه لری. فرض کړی که تاسی بخل او کینی وکړی او د الله تعالیٰ له امره مخ واړوی نو الله تعالیٰ ستاسی په ځای بل کوم قوم دروی چی هغه قوم به تاسی غوندی کنسک او بخیل نه وی او په لوی زړه او ډیره خوښی به د الله تعالیٰ د احکامو تعمیل او د هغه په لیاره کښی به خپل مال ښندی(لګوی). په هر ډول(طریقه) د الله جل جلاله حکمتونه او مصلحتونه پوره کیدونکی دی. خو تاسی له دی سعادته بی برخی پاتی کیږی په حدیث کښی راغلی دی چی صحابه ؓ عرض وکړ چی یا رسول الله! دغه بل قوم به څوک وی؟

چې د هغه په لوری اشاره شوی ده. نو زمونږ پيغمبر صلى الله عليه وسلم د حضرت سلمان فارسي په اوږه باندې خپل مبارک لاس کيښود او وی فرمايل چې «د ده قوم» او وی ويل «قسم په الله تعالىٰ دی که ايمان «ثريا» ته ورسيږی نو د فارس خلق به ئی له هغه ځايه هم راښکته کوی»

**يادونه:** «فارس» د عربو په لغت کښې هغه چاته وايه شي چې په اس سور وی او دا کنايه ده زمونږ د خراسان يا افغانستان له خلقو څخه چې له بين النهرين څخه تر سند پورې او له خليج فارس څخه تر بخارا پورې پراته ؤ او خلق به ئی زياتره په هغې پيری کښې په آسونو باندې سوريدل او له چين څخه نيولی تر روما کوچنی ايشيا او افريقا پورې د تجارت او سياحت دپاره تلل د دوی يوی ځانګکی چې پارسوا نوميده د (بلخ) په جنوب غربی سيمه کښې هستوګنه درلوده(لرله) چې هغه هيواد له هم دی سببه په پارس سره مشهور دی.

الحمد لله چې صحابه ؤ رضى الله تعالىٰ عنهم د دی بينظير ايثار او د ايمانی جوش ثبوت ورکړ چې د هغوی په ځای کښې د بل قوم د راتللو وار ونه رسيد. خو پخپله دغه فارسيان هم په اسلام مشرف شول او د ايمانداری هغه شانداری مظاهری ئی ور وښوولی او داسی زبردست دينی خدمتونه ئی پای(آخر) ته ورسول چې هر سړی به د هغو له ليدلو څخه خامخا داسی اقرار کاوه چې بيشکه هم دغه فتوحات او ترقی د حضرت محمد رسول الله د دغه پيش ګوئی سره برابری دی هم دا د (خراسان) او فارس قوم ؤ چې د ضرورت په وخت کښې به ئی د عربو ځای نيولی شو. له زرهاؤ ائمه ؤ او علماؤ څخه قطع نظر يواځی زمونږ د لوی امام ابوحنيفه رحمة الله عليه (کابلی ثم الکوفی) وجود د دی پيش ګوئی په صدق باندې کافی شهادت دی. هم دا راز(قسم) په خراسان او پښتونخوا کښې نور لوی عالمان او پوهان د دی ميهن په پيريو کښې هم شته چې تقريباً د علم او عمل د هغې لوئی ونی څخه چې ځانګکی ئی تر «ثريا» پورې جګی (اوچتی) ختلی دی خوندوری ميوی ئی راښکته کړی دی.

**تمت سورة محمد صلى الله عليه وعلىٰ آله وصحبه وسلم بتوفيقه واعانته فلله الحمد والمنة**

---

سورة الفتح مدنية وهی تسع وعشرون آية و اربع رکوعات

د «الفتح» سورت مدنی دی (٢٩) آية او (٤) رکوع لری.

---

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ○

شروع کوم په نامه د الله چه ډير زيات مهربان پوره رحم لرونکی دی

---

د دی سورت په مختلفو آيتونو کښې د متعددو واقعاتو په لوری اشاری دی چې د فهم د سهولت دپاره د هغو خلاصه او لنډون داسی بيانيږی.

الف: پیغمبر صلی الله علیه وسلم په مدینه کښې خوب ولید چې «په امن او امان سره مکې ته داخل او عمره ئې ادا کړې حلق او قصر ئې فرمایلې دی» دوی دا خوب صحابه ؤ ته ووایه خو د ورتګ نیته ئې ونه تاکله (مقرر نه کړه) مګر د شدت له اشتیاق څخه د ډیرو داسې خیال کیده چې سږکال به عمره میسره کیږي. او اتفاقاً دوی هم د عمرې قصد وفرمایه.

ب: دوی له یو نیم زر سریو سره د عمرې په نیت د مکې په لورې وخوځیدل او «هدیې» هم له دوی سره وې. کله چې دا خبر مکې ته ورسید قریشو یوه لویه جرګه جوړه او په هغې کښې دا خبره غوته کړه چې دوی به نه پریږدو چې مکې ته راشي سره له دې چې سم د مکې معظمې له اصولو سره دښمنانو حق درلود(لرلو) چې حج او عمره وکړي. کله چې محمدی قافله مکې ته نژدې او (حديبيې) ته ورسیده نو د دوی اوښه هلته چو شوه او سره له ډیرو وهلو او خوځولو او کشمکش هیڅ له خپل ځای څخه ونه خوزیده تر څو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل «**حبسها حابس الفيل**» او وې ویل «قسم په الله که د مکې خلق له ما څخه د داسې خبرې مطالبه وکړي چې په هغې کښې د حرمات الله تعظیم قائم وي زه به هغه منم» نو په هغه ځای کښې ئې قیام وفرمایه چې اوس په (١٣٦٧ ق هـ) کښې «شمسیه» ورته وائي.

ج: حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم مکیانو ته سړی ولیږل چې «مونږ د جګړې دپاره نه یو راغلی مونږ پریږدی چې خپله عمره وکړو او بیرته لاړ شو» کله چې د حضرت نبوی صلی الله علیه وسلم جواب ور ونه رسید. نو حضرت نبوی صلی الله علیه وسلم د حضرت عثمان رضی الله تعالیٰ عنه په خوله هم دا خبره هغوی ته ولیږله. او هغو نارینه ؤ او ښځو مسلمانانو ته ئې زیری ورکړ چې هلته مغلوب او مظلوم اوسیدل «نژدې ده چې په مکه کښې اسلام غالب شي» قریشو حضرت عثمان رضی الله تعالیٰ عنه ستون (واپس) کړ. کله چې د حضرت عثمان رضی الله تعالیٰ عنه بیرته راتګ وځنډید (ایسار شو) دا خبره خوره شوه چې هغه هلته وژلی شوی دی دلته رسول الله مبارک په دې خیال چې ښائي اوس د جګړې وار هم راورسیږي. ګرد(تول) اصحاب الکرام رضی الله تعالیٰ عنهم ئې تر یوې ونې لاندې کینول او د جهاد بیعت ئې ترې واخیست. کله چې قریشو د بیعت خبره واوریده وویریدل او حضرت عثمان رضی الله تعالیٰ عنه ئې بیرته ولیږه.

د: بیا د مکې څو غټان د روغې په غرض د حضرت محمد رسول الله مبارک په حضور کښې حاضر شول او صلحنامه ئې ولیکله دلته پر ځینو خبرو باندې بحث او مناقشه پیښه شوه او مسلمانان په قهر شول او وې ویل چې د داسې خبرې پرې کړه په توره وکړي. خو رسول الله مبارک د مکیانو ګردي(تولي) غوښتنې ومنلې او مسلمانانو د رسول الله مبارک په وینا او د کفارو د ډیرو اصرارو لامله(له وجې) له ضبط او تحمل څخه کار واخیست او روغه غوټه شوه. په دې روغلیک (صلحنامه) کښې یو شرط د کفارو له لورې دا وو چې سږکال تاسې مسلمانان بیرته لاړ شي کال ته بې وسلې (تش لاس) راشي او عمره وکړي. تر لسو کلونو پورې به د دواړو ډلو په منځ کښې جنګ نه کیږي. په دې مدت کښې هومره سړي چې له مکې څخه مدینې ته راشي

ښائی چی بیرته ولیږل شی. که له مدینی څخه کوم سړی مکی ته راشی هغه هم دلته په مکی کښی ساتل کیږی. وروسته له دی روغی څخه دوی په (حدیبیی) کښی د هدی حیوانات ذبح او وروسته له حلق او قصر ئی خپل احرام خلاص کړ او مدینی منوری ته بیرته راغلل.

هـ: په لیاره کښی هم دا د (الفتح) سورت نازل شو. دا ګردی(تولی) پیښی د هجرت په (٦) کال کښی پیښی شوی.

و: د (حدیبیی) له راتګه وروسته د هجرت په (٧) کال په اوله کښی حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم (خیبر) فتح کړ چی د مدینی په شمال کښی څلور منزله لری پروت دی او د شام په لوری د یهودانو یو ښار وو. په دی جهاد کښی له دوی سره پرته(علاوه) له هغو سړیو څخه چی په حدیبیی کښی ورسره ملګری وو بل هیڅوک نه وو.

ز: حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په (٧) کال د هجرت د ذیقعدة الحرام (حوت) په میاشت کښی سم له تړون سره د عمرة القضا دپاره مکی ته تشریف یووړ او په امن او امان او په زړه پوری ئی عمره اداء کړه.

ح: د هغه روغلیک (صلحنامی) هغه خبره چی تر لسو کلونو پوری به جنګ نه کیږی د قریشو له خوا ماته شوه نو ځکه د هجرت په (٨) کال د رمضان المبارک (جدی) په میاشت کښی مکه معظمه د مسلمانانو په لاس فتحه شوه.

---

إِنَّا فَتَحۡنَا لَكَ فَتۡحٗا مُّبِينٗا ١ لِّيَغۡفِرَ لَكَ ٱللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنۢبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ

---

بیشکه چی مونږ فتح او بری مو درکړی دی تاته فتحه او بری ظاهر او ښکاره دپاره د دی څو چی وبښی تاته الله هغه چی پخوا تیر شوی دی له ګناه د تا څخه او هغه چی وروسته دی (له ګناه څخه)

---

**تفسیر:** د حدیبیی روغه که څه هم په ښکاره ډول(طریقه) د ذلت او د مغلوبیت روغه په نظر راځی او د هغی د شرایطو له لوستلو څخه په بادی النظر کښی دا محسوس کیږی چی ګردی(تولی) خبری د قریشو په ګټه(فائده) دی. لکه حضرت عمر الفاروق او نورو اصحاب الکرام رضوان الله تعالیٰ علیهم اجمعین د دی روغی د ښکاره توری له کتلو څخه سخت خپه، محزون، مضطرب او پریشان وو. دوی خیال کاوه چی د مسلمانانو د دی یو نیم زر سر جارونکی (قربانوونکی) لښکر په مخکښی قریش او د هغوی نور طرفداران څه اهمیت لری. ولی د دی راز(قسم) ګردو(تولو) جګړو پریکړه او فیصله په توره سره ونه کړه شی؟ مګر د رسول الله صلی الله علیه وسلم سترګی هغه احوالو او نتیجو ته وی چی د نورو له سترګو څخه به پټه وی ځکه چی الله جل جلاله د دوی تټر(سینه) د ډیرو سختو پیښو د تحمل دپاره پرانیستلی وو دوی په بی مثاله استغنا توکل، تحمل او ایثار سره هغه شرطونه ومنل او خپلو اصحابو ته ئی په دی لندو توریو (الله

ورسوله اعلم) سره ډاډینه(سکون) او تسلی ورکوله یعنی الله او د هغه رسول په داسې خبرو باندی ډیر ښه پوهیږی. تر څو چې دا سورت نازل شو او الله تعالیٰ د دی روغی او فیصلی نوم «فتح مبین» کیښود. خلقو په دی باندی هم تعجب کاوه او ویل به ئې چې یا رسول الله صلی الله علیه وسلم دا بری دی؟ حضرت نبوی صلی الله علیه وسلم به فرمایل چې «هو! لوی بری دی» حقیقت دا دی چې د اصحابو د جهاد بیعت، او له هغه معمولی کشمکش څخه وروسته ګرد(تول) کفار او معاندین وویریدل او د روغی په لوری ئې خپلی خوښی ښکاره کری. او نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره له دی چې پر جنګ او انتقام باندی ئې پوره قدرت درلود(لرلو) خو بیا هم په هر ځای کښی به ئې له عفوی اغماض او حلم څخه کار اخیست او محض د بیت الله شریف د تعظیم دپاره د هغوی په هغو چتی(بیکاره) غوښتنو باندی نه په قهر کیدل. دا پیښی له یوه لوری د الله تعالیٰ د خصوصی مدد او رحمت د استجلاب وسیله ګرځیدی او له بل لوری د دښمنانو په زړونو کښی د اسلام اخلاقی او روحانی طاقت او د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د صبر او تحمل او د شان مینه او اثر په زړونو کښی زیاتوه اګر که د عهد نامی د لیکلو په وخت کښی ځینو ښکاره لیدونکیو به د کافرانو بری لیدل خو که په سره سینه دی پیښی ته کتل کیدی او د هغی شاؤ خوا ته ځیروالی شوی وی او وروسته له غور کولو او له وړاندی وروسته سنجولو(فکر کولو) څخه به هر سړی په دی پوهیده چې دا ګردی(تولی) فیصلی د اسلام په ګته(فائده) شوی دی نو ځکه الله تعالیٰ د هغی نوم «فتح مبین» کیښود او تنبیه ئې وفرمایله چې دا روغه اوس هم روغه ده او په راتلونکی کښی به هم دوی ته د ظاهری او باطنی ډیرو فتوحاتو ورونه پرانیځی لکه چې له دی روغی څخه وروسته د کافرانو له مسلمانانو سره ناسته ولاړه، اختلاط شروع شو او بی تکلفه به ئې سره لیدل او خبری او اتری به ئې سره کولی او کافرانو د مسلمانانو له خولو څخه د مسلمانی خبری اوریدلی. او د دغو مقدسو مسلمانانو اقوالو، احوالو، اعمالو او اطوارو ته به ئې کتل چې له دی ګردو(تولو) پیښو او نندارو څخه هرومرو(خامخا) د دوی په زړونو کښی د اسلام مینه پیدا کیده. آخره نتیجه دا شوه چې د حدیبیی له روغی څخه د مکی تر بری پوری یعنی د دوو کلونو په موده کښی ډیر خلق مسلمانان شول او اسلام زیات خور شو خالد بن الولید او عمرو بن العاص غوندی نومیالی په هم دی مدت کښی مسلمانان شول او دا فتح او بری جسمی فتح او بری نه بلکه روحی فتح او بری وو او د حدیبیی صلح مسلمانانو لره د لوی خیر او برکت سبب شوه او اسلام په شاؤ خوا کښی دومره منتشر شو چې د معظمی مکی د فتح کیدلو ګردی(تولی) وسیلی راغونډی شوی او د هغه پاک ځای د تل دپاره د شرک له ګندګی پاکیدل ئې آسان وګرځیدل په حدیبیی کښی له رسول اکرم صلی الله علیه وسلم سره یو نیم زر تنه اصحابان وو خو دوه کاله وروسته له دی څخه د مکی معظمی په عظیمی فتح کښی لس زره توریالی لښکر له دوی سره ؤ. ریښتیا خو دا ده چې نه یواځی د مکی او د خیبر فتح بلکه د نورو اسلامی فتوحاتو دپاره د حدیبیی روغه لکه یو اساس بنیاد او زرینه دیباچه وګرځیده او هغه صبر او تحمل توکل او د حرمات الله تعظیم چې په دغه روغه کښی ورڅرګند(ورښکاره) شو او د

هغه علوم او قدسیه معارف او د باطني مقاماتو او د مراتبو فتح الباب چي له دی پیښی څخه شوی دی د هغو اندازه څوک کولی شي؟ هو! د هغو لنډ اجمال او لږه اشاره حق تعالیٰ په دی آیتونو کښی فرمایلی ده یعني هسی چي دنیوی سلاطین کوم لوی فاتح سپه سالار په خصوصی اعزاز او اکرام سره پالی الله تعالیٰ د دی فتح مبین په صله کښی هغوی ته څلور صلی وربښلی دی اول د ذنوبو غفران له همیشه تر همیشه پوری د هغوی هغه ګردی(تولی) کوتاهی چي د هغوی د رفیعی مرتبی په اعتبار کوتاهي ګڼلی کیږی ګردی(تولی) سره معافی دی دا خبره الله جل جلاله بل هیچا ته نه ده بښلی خو په حدیث کښی راغلی دی چي د دی آیت له نزول څخه وروسته رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په عبادت کښی دومره زیات زیار (کوشش) کوو چي کرئ شپه به ئی په لمانځه کښی تیروله تر دی چي د دوی پښی وپرسیدلی او د ګردو(تولو) کتونکیو زړونه به پری خوږیدل اصحابو عرض وکړ چي «یا رسول ولی دومره ربړونه(تکلیفونه) په ځان کوئ؟ د الله له لوری خو ستاسو ګردی(تولی) پخواني او وروستني خطاوی بښلی شوی دی دوی به داسی فرمایل: «**افلا اکون عبدا شکوراً**» ولی زه د هغه شکر ګزاره بنده نشم؟ ښکاره دی چي الله تعالیٰ داسی زیری خپل همغه بنده ته اوروی چي د هغه له اوریدلو څخه بی ویری نه شي بلکه لا زیات له الله جل جلاله ودار شي. د شفاعت په طویل حدیث کښی راغلی دی کله چي خلق سره راتول شي د حضرت مسیح علیه السلام په حضور کښی عرض کوی نو حضرت مسیح علیه السلام ورته وائی چي حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته لاړ شئ! چي خاتم النبیین دی او د هغوی پخواني او وروستني ګرد(تول) ګناهونه بښلی شوی دی یعني د ده د شفاعت په مقام کښی که بالفرض کوم تقصیر هم وشی نو هغه هم په عامه عفو کښی پخوا له دی راغلی او پرته(علاوه) له دوی څخه بل څوک دا کار نشی کولی.

---

**وَيُتِمَّ نِعْمَتَهُۥ عَلَيْكَ**

---

او (بل دپاره د دی) چي پوره کړی (الله په فتحه د مکی او د نورو ښارونو سره) مهرباني خپله پر تا باندی

---

**تفسیر:** یوائی له تقصیراتو څخه نه تیریږی بلکه هر هغه ظاهری، باطني، مادی، روحی انعام او احسان چي تر اوسه پوری درسره شوی دی د هغه تکمیل او تتمیم هم کاوه شي.

---

**وَيَهْدِيَكَ صِرَٰطًا مُّسْتَقِيمًا ﴿٢﴾**

---

او (بل دپاره د دی) چي وښیی الله تعالیٰ تاته سمه صافه لیاره.

**تفسير:** تل به دی د هدايت او استقامت په سمه لياره کښی قائم لری. د معرفت او شهودو په غير محدودو مراتبو باندی د فائزيدلو او په قلوبو او ابدانو باندی د اسلام د حکومت د قائميدلو په لياره کښی به تاته هيڅ مشکلات نه درپيښيږی خلق به دلی دلی ستاسو په ليار ښوونه د اسلام په سمه لياره راځی او په دی دول(طريقه) د تا د حسناتو په ذخيره کښی بيشماره زيادت کيږی.

وَّيَنْصُرَكَ اللّٰهُ نَصْرًا عَزِيْزًا ﴿٣﴾

او (بل دپاره د دی) چی کومک(مدد) وکړی الله تعالیٰ له تا سره مدد غالب زبردست

**تفسير:** د الله تعالیٰ داسی مدد به راشی چی هيڅوک به ئی نشی بندولی او د هغه په مرسته(مدد) به فتح او ظفر ستاسی له قدمونو سره مل وی د «نصر» په سورت کښی ئی فرمايلی دی کله چی د الله له لوری مدد او فتح راشی او خلق د الله په دين کښی فوج فوج داخل شی نو ته د الله تسبيح، تحميد او استغفار کوه! ښکاره ده چی پر دی فتح مبين باندی به هم حضرت محمد استغفار ويلی وی د ده په جواب کښی د ﴿ لِيَغْفِرَ لَكَ اللّٰهُ ﴾ الآية ـ مضمون لا صاف ښکاريږی. دا تنبيه ابن جرير رحمة الله عليه کړی ده.

هُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ فِيْ قُلُوْبِ الْمُؤْمِنِيْنَ لِيَزْدَادُوْٓا اِيْمَانًا مَّعَ اِيْمَانِهِمْ ؕ

دغه (الله) هغه ذات دی چی نازله کړی ئی ده سکينه او ډاډينه(سکون) په زړونو د مؤمنانو کښی له پاره د دی چی زيات کړی دوی لره ايمان سره له ايمان د دوی

**تفسير:** اطمينان او ډاډينه(سکون) ئی راښکته کره يعنی سره له دی چی د هغوی له طبعی څخه خلاف وو د رسول صلی الله عليه وسلم په حکم باندی تينگ ودريدل او له ضد کوونکيو کافرانو سره ئی ضد ونه کړ نو د هغه په برکت د دوی د ايمان درجات لا زيات شول او د عرفان او ايقان په مراتبو کښی ئی ترقی وشوه. اول د جهاد په بيعت سره ئی ثابته کره چی مونږ د الله جل جلاله په لياره کښی د جنگ کولو او ځان جارولو(قربانولو) دپاره حاضر يو. دا هم د ايمان يو رنگ وو، وروسته له دی کله چی پيغمبر صلی الله عليه وسلم د مسلمانانو له جذباتو څخه پرته (علاوه) روغه وکره نو دغه د هغوی د ايمان د رنگ بله ننداره وه چی خپل جوش، جذبات او

عواطف ئې په زور سره ټينګ کړل. او د الله او د رسول الله د فيصلې په مقابل کښې ئې غاړه کيښودله رضی الله تعالیٰ عنهم ورضواعنه.

وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۝

او خاص الله لره دی لښکرې د آسمانونو او د ځمکې (که اراده وفرمائی الله د نصرت د دین خپل بې له تاسې څخه ئې هم کوی)، او دی الله ښه خبردار ښه حکمت والا.

**تفسير:** دغه خبره همغه پاک الله ته ښه معلومه ده چې کوم وخت تاسو ته د قتال امر کول مصلحت دی؟ او په کوم وخت کښې له قتال څخه بيرته درېدل او روغه کول تاسې لره ښه دی؟ که تاسې ته د قتال امر درکړ شی نو هيڅ کله د کفارو د کثرت له خياله تردد ونه کړی. ځکه چې د ځمکې او د آسمانونو د لښکرو مالک همغه الله تعالیٰ دی چې سره د لړتوب ستاسې امداد او مرسته(مدد) په غيبې لښکرو سره هم کولی شی لکه چې په «بدر، احزاب، حنين» او نورو کښې ئې وکړه. او که د روغې او د جنګ نه کولو امر درکړی نو هغه هم ومنی. او داسې خيال ونه کړی چې افسوس روغه وشوه او کافران په ويريا له لاسه ووتل او په سزا ونه رسيدل که د قتال امر کيده نو هغوی به مو وژل. ولې چې د هغوی وژل په تاسې پورې موقوف نه دی که مونږ وغواړو نو پخپلو لښکرو سره ئې وژلی شو. په هر حال د ځمکو او د آسمانونو د لښکرو مالک الله تعالیٰ دی که د روغې امر درکوی نو خامخا په هغې کښې خير او حکمت دی.

لِّيُدْخِلَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَيُكَفِّرَ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ ؕ

لپاره د دې چې داخل کا مؤمنان سړی او مؤمنات ښځې په جنتونو کښې چې بهيږی د لاندې (د ونو او ماڼيو) د هغو (څلور قسمه ويالې) حال دا چې هميشه به وی دوی په هغو (جنتونو) کښې او(دپاره د دې چې) ورژوی الله تعالیٰ له دوی څخه ګناهونه د دوی

**تفسير:** کله چې رسول اکرم صلی الله عليه وسلم ﴿ اِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِيْنًا ﴾ الآية ولوست نو اصحابو هغوی ته مبارکی عرض کړه او وئې ويل يا رسول الله! دا خو تاسې ته وشوه مونږ ته څه ده؟ نو ځکه دا آيتونه نازل شول يعنی الله تعالیٰ اطمينان دادينه(سکون) او سکينه راښکته کړله

او د مؤمنانو ایمان ئی لا زیات کړ تر څو دوی په ډیر اعزاز او اکرام سره په جنت کښی داخل کړی او د هغو ګردی(تولی) خرابی او کمزوری معاف کړی. په حدیث کښی دی هغو اصحابو چی د حدیبیی بیعت کړی دی هیڅ یو له هغو څخه هم دوزخ ته نه ځی.
**تنبیه:** د مؤمنانو ذکر د تعمیم دپاره دی یعنی که نارینه وی یا ښځی د هیڅ یوه محنت او ایمانداری نه ضائع کیږی. له احادیثو څخه ثابت شوی دی چی په دی سفر کښی حضرت بی بی ام سلمة رضی الله تعالیٰ عنها د رسول صلی الله علیه وسلم سره وه.

وَكَانَ ذٰلِكَ عِنْدَ اللّٰهِ فَوْزًا عَظِيمًا ۝

دی دغه (غفران او ادخال د جنت) په نزد د الله په مراد رسیدل بری موندل ډیر لوی

**تفسیر:** ځینی نقال صوفیان یا مغلوب الحال لویان وائی چی د «جنت غوښتل د ناقصانو کار دی» له دی ځای څخه راښکاره شوه چی د الله تعالیٰ په نزد دا لوی کمال دی.

وَيُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِينَ وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْمُشْرِكِينَ وَالْمُشْرِكٰتِ

او (لپاره د دی) چی په عذاب کړی (الله) منافقان سړی او منافقانی ښځی او مشرکان سړی او مشرکاتی ښځی

**تفسیر:** د مؤمنینو په زړونو کښی ئی د صلحی او روغی له خوا ډادینه(سکون) پیدا کړه او د اسلام اساس او بنسټ (بنیاد) ئی ټینګ کړ او د اسلامی فتوحاتو او ترقیاتو ورونه ئی خلاص کړل چی په پای(آخر) کښی به د کافرانو او منافقانو د مصیبت او د ماتی سبب کیږی او هغوی ته به سخته سزا رسیږی.

الظَّانِّينَ بِاللّٰهِ ظَنَّ السَّوْءِ

چی ګمان کوونکی دی پر الله باندی ګمان د بدی (چی الله به هیڅ کله رسول الله ته بری نه ورکوی)

**تفسیر:** «بد اتکلونه» دا دی چی د مدینی د تګ په وخت کښی منافقان پرته له «جد بن قیس څخه» ګرد(تول) هلته پاتی شول او پلمی(تدبیرونه) ئی ځان ته جوړی کړی. ولی چی هغوی داسی

اتكل كاوه چې په مكه كښې ضرور جنگ پيښيږي او دا گرد(تول) مسلمانان په ښكاره دول(طريقه) عمرې ته راغلي دي خو په چل سره غواړي چې په معظمه مكه باندې تصرف وكړي.

عَلَيۡهِمۡ دَآئِرَةُ ٱلسَّوۡءِۖ

پر دوی باندې دې راگرځيدل د بدی (په ذلت او عذاب) سره

**تفسير:** د زمانې په گردش او د مصيبت په احاطه كښې راغلي تر كومه به احتياط او وړاندې كتل وكړي.

وَغَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ وَلَعَنَهُمۡ وَأَعَدَّ لَهُمۡ جَهَنَّمَۖ وَسَآءَتۡ مَصِيرٗا ۝٦
وَلِلَّهِ جُنُودُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ۝٧

او غضب كړی دی الله پر دوی باندې او لرې كړي دي (الله دوی له رحمت خپله) او تيار كړی دی الله تعالىٰ دوی ته (عذاب د) دوزخ او بد ځای د ورتللو دی (دغه دوزخ) او خاص الله لره دي لښكرې د آسمانونو او د ځمكې او هميشه دی الله ښه غالب قوي (په انفاذ د احكامو) ښه حكمت والا (چې هر كار په تدبير او مصلحت سره كوي)

**تفسير:** كه هغه سزا دركړي نو څوک به مو وژغوري(وساتي). خدائي لښكر به مو په يوه شيبه(لحظه) كښې وړې ذرې كړي. خو هغه ذات سره د زبردستۍ حكمت لرونكې هم دی او د الٰهي حكمت داسې مقتضي نه دی چې سم دلاسه هغوی ته سزا وركړي.

إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ شَٰهِدٗا وَمُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ۝٨

بيشكه مونږ ليږلې ئې ته (ای محمده !) شاهد او زيرې وركوونكې او ويروونكې

**تفسير:** تاسې د الله امر منونكيو ته زيرې د خوښې وركوئ او غاړه غړوونكو لره ويره اوروی او خپل احوال ښيی لكه چې له ﴿ إِنَّا فَتَحۡنَا ﴾ څخه تر دې ځای پورې درې واړه مضامين راغلي دي. او په آخرت كښې هم پر خپل امت او هم پر انبياؤ عليهم السلام باندې گواهي وركوی.

لِّتُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُعَزِّرُوهُ وَتُوَقِّرُوهُ

لپاره د دی چې ایمان راوړی تاسی په الله او په رسول د دغه (الله) او مدد وکړی د هغه د دین او تعظیم وکړی د هغه

**تفسیر:** د «تعزروه» او د «توقروه» ضمیرونه که الله ته راجع شي نو د الله له مدد کولو څخه د هغه د دین او د هغه د پیغمبر مدد کول دی. که رسول ته راجع شي نو هیڅ اشکال نه پاتی کیږی.

وَتُسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ⑨

او هغه (الله) ته نسبت د پاکی وکړی صباح او بیگا

**تفسیر:** د الله تعالیٰ د پاکی بیان تل کوی که په لمانځه کښی وی او که د باندی له لمانځه څخه وی

إِنَّ الَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ اللَّهَ يَدُ اللَّهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ

بیشکه هغه کسان چې بیعت کوی له تاسره بیشکه بیعت کوی له الله سره او لاس د الله د پاسه د لاسونو د دوی دی

**تفسیر:** خلقو به خپل لاسونه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاس کښی ورکول او له هغوی سره ئې بیعت کاوه نو دا ئې فرمایل چې د نبی الله په لاس باندی بیعت کول داسی دی لکه له الله تعالیٰ سره بیعت کول ځکه چې حضرت محمد رسول الله په حقیقت کښی د الله تعالیٰ له جانبه بیعت آخلی او د هغه د احکامو تعمیل او تاکید د بیعت په وسیله کوی نو دا هسی ده لکه چې د جزء ٥ «النساء» د سورة په (١١) رکوع ٨٠ آیت کښی دی ﴿مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ﴾ او د جزء ٩ (انفال) د سورة په (٢) رکوع ١٧ آیت کښی راغلی دی ﴿وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ رَمَىٰ﴾ کله چې د نبوی د بیعت حقیقت داسی شو نو په یقین سره د الله تعالیٰ د شفقت او د حمایت لاس به هم د هغو د لاسونو د پاسه وی.

**تنبیه :** رسول اکرم صلی الله علیه وسلم به له خپلو اصحابو څخه کله د جهاد په نسبت او کله د بل کوم خیر د کار په نسبت بیعت اخیست په صحیح مسلم کښی د (وعلی الخیر) لفظ راغلی

دی. د طریقت د مشائخو بیعت که په مشروعی طریقی سره وی نو د هم دی لفظ لاندی مندرج کیدی شی. په حدیبیی کښی پر دی خبری باندی بیعت اخیستی شوی وو چی تر مرینی(مرگه) پوری مونږ په میړانی(بهادری) سره جنگ کوو! او له جهاده او له جنگه نه تښتو!.

فَمَن نَّكَثَ فَإِنَّمَا يَنكُثُ عَلَىٰ نَفْسِهِۦ ۖ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِمَا عَٰهَدَ عَلَيْهُ ٱللَّهَ فَسَيُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿١٠﴾

پس هغه چا چی مات کړ دا بیعت نو بیشکه چی ماتوی به دی بیعت په ځان خپل (او ضرر ئی هم ده ته راجع کیږی) او هغه څوک چی وفا وکړی په هغه شی چی عهد او اقرار ئی کړی دی پر هغه له الله سره پس ژر ده چی ور به کړی الله تعالیٰ ده ته اجر او بدل ډیر زیات (چی د جنت عطاء او د الله لقاء ده)

**تفسیر:** هغه خبری چی د بیعت په وخت کښی کولی کیږی که څوک هغه ماتوی نو خپل ځان ته عار او نقصان پیښوی او الله تعالیٰ او د هغه رسول ته هیڅ یو نقص او ضرر نشی رسولی او هغه ته د عهد ماتولو سزا وررسیږی هر څوک چی خپل استقامت ښکاره کړی او پخپل عهد او پیمان باندی په تینگه سره ولاړ وی نو هغه ته به د هغه پوره اجر او بدل وررسیږی.

سَيَقُولُ لَكَ ٱلْمُخَلَّفُونَ مِنَ ٱلْأَعْرَابِ شَغَلَتْنَآ أَمْوَٰلُنَا وَأَهْلُونَا فَٱسْتَغْفِرْ لَنَا ۚ

ژر دی چی وبه وائی تاته (له تا څخه) وروسته پاتی شوی (له تللو د مکی په کال د حدیبیی) له صحرایانو مشغول کړی ئی وو مونږ مالونو زمونږ او کورنی زمونږ نو ښښنه وغواړه مونږ لره (د گناه زمونږ)

**تفسیر:** له مدینی څخه د وتلو په وخت کښی رسول الله مبارک مکی معظمی ته د خپلو تللو اعلان کړی ؤ او مسلمانانو ته ئی له خپل ځان سره د ورتگ تشویق او رغبت ورکړی ؤ. ښائی له قرائنو څخه دوی ته هم د جگړی د پیښیدلو کوم احتمال ورپیدا شوی وی خو له دی څخه هغو کلی والو صحرائیانو چی هنوز ایمان د هغوی په زړونو کښی لا ښه ځای نه ؤ نیولی خپل ځانونه ئی پټول

او پخپلو منځونو کښې به ئې سره ویل «آیا مونږ د هغه قوم کورونو ته لاړ شو چې هغوی د محمد صلی الله علیه وسلم پر کور مدینې باندې راغلل. او د هغه ملګری اصحاب ئې ورځنې ووژل. آیا مونږ چې د هغو توره دلته لیدلی ده هلته له هغوی سره جنګیدی شو؟ وګوری چې دا تلونکی هم له دی سفره بیرته راتلونکی نه دی او ګرد(تول) به هلته سره ستڼ (تباه) شی» په دی آیتونو کښې حق تعالیٰ د هغوی پټې خبری راښکاره کړی او د هغوی د مدینې له رسیدلو څخه پخوا په لیاره کښې ئې ورښکاره کړه چې ستاسی د صحیح او سالم بیرته راتللو په نسبت به دا خلق د خپلی غیر حاضری راز راز(قسم قسم) سونی (دروغ) او عذرونه ووائی او ډول ډول(قسم قسم) هیلی بهانی پلمی(تدبیرونه) به جوړوی. او وائی به چې مونږ د خپل کور او کهول له چارو څخه نه وو وزګار یا مو څوک په کورونو کښې نه ؤ چې وروسته له مونږ څخه د مال اسباب، اهل او عیال سرپرستی وکړی په هر حال له مونږ څخه لوی قصور شوی دی اوس ته له الله تعالیٰ څخه زمونږ مغفرت او ښښنه وغواړه.

يَقُولُونَ بِأَلْسِنَتِهِم مَّا لَيْسَ فِي قُلُوبِهِمْ ۚ

وائی دغه (پاتی کیدونکی منافقان) په ژبو خپلو سره هغه (خبری) چې نشته په زړونو د دوی کښې

**تفسیر:** پخپلو زړونو کښې پوهیږی چې دا عذر بیخی غلط دی او استغفار او د ښښنی غوښتل هم یو ظاهر داری ده او رښتیا او له زړه نه ده. ځکه چې دوی نه دا کومه ګناه ګڼی او نه په داسی څه اعتقاد لری.

قُلْ فَمَن يَمْلِكُ لَكُم مِّنَ اللَّهِ شَيْئًا إِنْ أَرَادَ بِكُمْ ضَرًّا أَوْ أَرَادَ بِكُمْ نَفْعًا ۚ بَلْ كَانَ اللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿١١﴾

ووایه ته (ای محمده! دوی ته) نو څوک دی چې مالک به شی تاسی لره په دفع د عذاب کښې د جانبه د الله څخه د یو څیز که الله اراده وفرمائی ستاسی د ضرر او نقصان یا الله تعالیٰ اراده وفرمائی ستاسو د نفع او ګټی (بل هیڅوک نشته چې ضرر او نفع ئې په قدرت کښې وی) بلکه دی، الله په هغو ګردو(ټولو) کارونو چې کوی ئې تاسی ښه خبردار (نو مطابق د عمل د تاسی په مقتضی د علم خپل سره تاسو ته جزا درکوی)

**تفسير:** هر راز(قسم) گټه(فائده) او نقصان د الله تعالیٰ د قدرت په ید کښې دی. د هغه د ارادې او مشیت په مخامخ کښې هیڅوک هیڅ شی نشی کولی. هغه نه غوښت چې تاسې په دې مبارک سفر کښې د هغه له پیغمبر سره شرکت ولرئ. او د هغه فوائد ستاسې په برخه شي او نه ئې اوس منظوره ده چې تاسې ته ښښنه وغواړم. الله تعالیٰ پخوا د تاسې له دې دروغو، حیلو او عذرونو ویلو څخه خبر راکړی دی او ستاسې حال احوال ئې ماته راڅرګند(راښکاره) کړی دی. او اراده ئې فرمایلې ده چې ستاسې د دې ناوړه (ګنده) اعمالو او حرکاتو په سبب تاسې د حدیبیې د غزوې له راز راز(قسم قسم) برکاتو او ګټو څخه بې برخې کړي. او تاسې ته له دې درګه نقصان او خساره ورسوي که تاسې وائې چې مونږ د مال، اولاد او کور او کهول لامله (له وجې) په دې غزوې کښې شرکت ونه کړ نو که الله وغواړي چې ستاسې مال، اولاد، کور کهول ته ستاسې په حضور کښې څه زیان او ضرر ورسوي نو ستاسې له لاسه څه کیدې شي؟ یا فرض کړی که الله تعالیٰ تاسې یا د تاسې اهل عیال او مال ته کومه ګټه(فائده) رسوي نو ستاسې نشتوالې او مسافرت د هغې مانع کیدې نشي او هرومرو(خامخا) ئې دررسوي نو د الله او د هغه د رسول د خوښې په مقابل کښې داسې خبرې ته څیر کیدل او د داسې شیانو پروا کول پرته(علاوه) له حماقت او ضلالت څخه بل شی نه دی او داسې فکر هم مه کوئ چې په پلمو(تدبیرونو)، حیلو، بهانو او خبرو سره به د الله تعالیٰ او د رسول الله خوښې حاصله کړئ، او په دې ښه پوه شئ چې الله تعالیٰ ستاسو په ګردو(ټولو) خبرو اترو او پلمو(تدبیرونو) خبردار دی.

---

بَلْ ظَنَنْتُمْ أَنْ لَنْ يَنْقَلِبَ الرَّسُولُ وَالْمُؤْمِنُونَ إِلَىٰ أَهْلِيهِمْ أَبَدًا وَزُيِّنَ ذَٰلِكَ فِي قُلُوبِكُمْ وَظَنَنْتُمْ ظَنَّ السَّوْءِ وَكُنْتُمْ قَوْمًا بُورًا ﴿١٢﴾

---

(دا عذرونه او بهانې چې تاسې ئې کوئ داسې نه ده) بلکه ګمان به کاوه تاسې (اې متخلفینو) چې بیا به له سره بیرته راونه ګرځي رسول الله او مؤمنان (له حدیبیې نه) کورونو خپلو ته هیڅ کله او ښائسته کړې شوې دی دغه (ګمان د تباهۍ د مؤمنانو) په زړونو ستاسې کښې (اې منافقانو) او ګمان کړی ؤ تاسې ګمان بد شوی (په علم د الله کښې). او وئ تاسې یو قوم هلاک کړی

---

**تفسير:** په رښتیا سره ستاسې د نه ورتګ سبب دا خبرې نه دی چې تاسې ئې وائې بلکه ستاسې ګمان داسې ؤ چې اوس پیغمبر او د هغه ملګري له دې سفره په روغ صورت بیرته راونه ګرځي دا ستاسې د زړه تینګه خبره وه چې دا ګمان مو بیخي غلط او چټي(بیکاره) ثابت شو نو ځکه

تاسی خپل حفاظت او ګټی د جلا(جدا) اوسیدلو په صورت کښی سنجولی (غوره کړی) وی او حال دا دی چی په دی صورت کښی ستاسی خسران او تباهی وه او الله تعالیٰ ته ښه معلوم وه چی تاسی تباه او برباد کیدونکی ئی.

وَمَنْ لَّمْ يُؤْمِنْ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ فَاِنَّآ اَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ سَعِيْرًا ﴿١٣﴾ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿١٤﴾

او هر هغه چی ایمان ئی نه وی راوړی په الله او په رسول د دغه (الله) نو بیشکه مونږ تیار کړی دی مونږ الله تعالیٰ کافرانو ته تود اور (د دوزخ) او خاص الله لره دی سلطنت او باچائی د آسمانونو او د ځمکی (ملکاً خلقاً وعبیداً) ښښی هر هغه چی اراده وفرمائی (د مغفرت ئی) او په عذاب کښی اچوی هر هغه چی اراده وفرمائی (د عذاب ئی) او همیشه دی الله ډیر ښه ښښونکی (د خطیاتو) ډیر رحم والا (په ورکولو د اجر او ثواب سره).

**تفسیر:** هغه څوک چی د الله تعالیٰ اراده د هغه ښښنی ته نه وی تللی نو زه ئی څرنګه ښښنه وغواړم هو! که الله تعالیٰ مهربانی پر تاسی باندی وفرمائی نو تاسی ته توفیق درکوی چی توبه وکاږی او د هغه ښښنه ځان ته وګټی د هغه رحمت په هر حال کښی د هغه په غضب باندی سابق دی.

سَيَقُوْلُ الْمُخَلَّفُوْنَ اِذَا انْطَلَقْتُمْ اِلٰى مَغَانِمَ لِتَاْخُذُوْهَا ذَرُوْنَا نَتَّبِعْكُمْ ۚ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّبَدِّلُوْا كَلٰمَ اللّٰهِ ۚ قُلْ لَّنْ تَتَّبِعُوْنَا كَذٰلِكُمْ قَالَ اللّٰهُ مِنْ قَبْلُ ۚ

ژر به ووائی (تاته) وروسته پاتی کیدونکی (خلق) کله چی روان شی تاسی غنیمتونو (د خیبر ته) (دپاره د دی) چی واخلی تاسی هغه (غنائم).! پری ږدی مونږ چی درځو په تاسی پسی (دپاره د جنګ او غنیمت)، اراده لری دوی چی بدل کړی کلام الله (حکم د الله) ووایه (ای محمده ! دوی ته) چی له سره به متابعت ونه کړی تاسی زمونږ هم داسی فرمایلی وو الله پخوا له دی

شخه.

**تفسیر:** د حديبيي له راتګ څخه وروسته رسول اكرم صلى الله عليه وسلم ته امر ورسيد چې پر (خيبر) باندې بريد او تعرض وكړې! چې هلته هغه غداران يهودان اوسيدل چې د (احزاب) په غزا كښې ئې كافرانو ته د مدينې ليار ښوونه كړې وه. حق تعالىٰ خپل رسول ته خبر وركړ چې هغه صحرائيان چې حديبيي ته نه وو تللي اوس به د (خيبر) په غزا كښې له تاسې سره د ورتګ غوښتنه وكړي څكه چې هلته ويره لږه او د ولجې(غنيمت) هيلې (اميدونه) ډيرې دي تاسې هغوى ته ووائې چې ستاسې له دې غوښتنې څخه لا پخوا ماته الله تعالىٰ ستاسې په نسبت هدايت راكړى دا چې تاسې په دې سفر كښې هم هرګز نشې تلى نو آيا په دې صورت كښې به تاسې له مونږ سره تلى شئ؟ كه څى نو د دې تګ معنى به دا وى چې د الله تعالىٰ خبره بدله شوې ده حال دا چې د الله تعالىٰ احكام هيڅ كله بدليدونكى نه دي.

فَسَيَقُوْلُوْنَ بَلْ تَحْسُدُوْنَنَا ۚ

بيا به ژر ووائى چې حسد او كينه كوى تاسې له مونږه سره (په ګټه(فائده) زمونږ كښې اى مؤمنانو!)

**تفسیر:** الله تعالىٰ هيڅ نه دى فرمايلى تاسې محض دا غواړئ چې مونږ ته څه ګټه(فائده) ونه رسيږي او د غنيمت مال يواځې تاسې ته پاتې شي.

بَلْ كَانُوْا لَا يَفْقَهُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ۝

(داسې نه ده) بلكه ۋ دوى چې نه به پوهيدل (له دين د اسلام نه) مګر خو لږ شخه

**تفسیر:** ډيره لږه پوهه لرى او دا ناپوهان په دې نه پوهيږى چې د مسلمانانو د زهد او د قناعت مرتبه دومره لوړه(اوچته) ده چې هغوى هيڅ دنيوى ګټو ته نه ګورى كله چې د مال حرص پاتې نه شو نو پر تاسې باندې به څرنګه حسد كوى؟ آيا رسول الله مبارک د رخې(كينې) له پلوه د الله تعالىٰ له خوا تاسې ته (العياذ بالله) داسې يو امر كوى؟

قُلْ لِّلْمُخَلَّفِيْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ سَتُدْعَوْنَ اِلٰى قَوْمٍ اُولِىْ بَاْسٍ

شَدِيدٍ تُقَاتِلُونَهُمْ أَوْ يُسْلِمُونَ ۖ فَإِن تُطِيعُوا يُؤْتِكُمُ اللَّهُ أَجْرًا حَسَنًا ۖ

ووايه (اى محمده !) وروسته پاتى كيدونكيو ته له صحرائى خلقو ژر ده چى راوبه بللى شى تاسى طرف د جنگ د يوه قوم ته چى خاوندان د جنگ سخت وى يا به جنگ كوى تاسى له هغو سره (چى ايمان ئى نه راووړ) يا به مسلمانيږى هغوى نو بيا كه امر ومنى تاسى د دغو بلونكيو دربه كړى تاسى ته الله اجر ثواب ښه (چى عزت او غنيمت دى په دنيا كښى، جنت او رؤيت دى په عقبا كښى)

**تفسير:** لږ څه صبر وكړى دى غزا ته نشى تلى. خو وروسته له دى نه نورى جگړى ډيرى راتلونكى دى او د خورا(ډير) سختو جنگياليو قومونو سره به د مسلمانانو جنگونه پيښيدونكى وى او د هغه سلسله به تر هغه پورى اوږديږى تر څو هغه اقوام يا د اسلام په دين مشرف شى يا جزيه وركړى او ځان مطيع‌الاسلام وشميرى. كه په رښتيا سره تاسى د جهاد مينه لرى نو هلته د جهاد ډگر ته ننوځى! او خپل شجاعت ميړانه(بهادرى) او توره راښكاره كړى كه په هغه وخت كښى د الله تعالىٰ امر او حكم ومنى نو الله تعالىٰ به خورا(ډير) ښه بدل او جزاء تاسى ته دركړى.
**تنبيه:** له دى جنگياليو قومونو څخه (بنو حنيفه) يا نور مراد دى چى د كذاب مسيلمه تبر و يا (هوازن) يا (ثقيف) او نور دى چى د حنين په غزا كښى له هغوى سره مقابله وشوه، يا به هغه مرتدان وى چى له هغوى سره د ابوبكر الصديق رضى الله تعالىٰ عنه په خلافت كښى سخته جگړه پيښه شوه يا به د پارس، روم، خراسان، پښتونخوا، گرد(تول) او نور هغه توريالى قومونه وى چى د راشده‌ؤ خلفاؤ په وخت كښى له هغوى سره سخت جنگونه ونښتل لكه چى د پښتونخوا په تيره بيا په كابل كښى ډير سخت جنگونه وشول چى تر ډيرى مودى پورى وږده شول. او پښتانه څو ځلى ايل (محكوم) او بيا باغيان شول او د اصحابو لوى تورياليان لكه حضرت تميم او جبير رضى الله تعالىٰ عنهم دلته شهيدان شول او د حضرت عثمان ذى النورين لوى لښكرى اميران لكه عبد الرحمن بن سموره بن حبيب القريشى اول ځلى او ليث بن قيس بن حضرت عباس د رسول اكرم تره رضوان الله تعالىٰ عليهم اجمعين دوهم ځلى دلته سترى او ستومان شول. او تر ابد پورى دوى او د هغوى د تورياليو ملگريو مطهر اجساد زمونږ او مونږ گنهگاران د هغوى شو او د ذى النورين رضى الله تعالىٰ عنه له خلافت راهيسى گرد(تول) افغانستان د اسلام په مباركه رڼا(رنړا) منور شو. الحمد لله علىٰ ذلك والشكر له وائى په ځينو هغو جنگونو كښى چى نومونه ئى پاس ياد شول بى له كومى لوئى جگړى برى حاصل او دغه اقوام مسلمانان شول او لوئى ولجى (غنيمتونه) په لاس ورغلى.

وَإِن تَتَوَلَّوْا كَمَا تَوَلَّيْتُم مِّن قَبْلُ يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ⑯

او که وګرځیدی تاسی لکه چی ګرځیدلی وی پخوا له دی څخه نو په عذاب به کړی (الله) تاسی په عذاب ډیر دردناک سره

**تفسیر:** لکه چی د حدیبیی له تګه بیرته پاتی شوی که په راتلونکی جګړی کښی هم بیرته پاتی شوی نو الله تعالیٰ تاسی ته ډیر درد لرونکی عذاب درکوی. او ښائی پخوا له آخرته په هم دغه دنیا کښی هم څه عذاب دروررسیږی.

لَيْسَ عَلَى الْأَعْمٰى حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْمَرِيْضِ حَرَجٌ ۗ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ يُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ ۚ وَمَنْ يَّتَوَلَّ يُعَذِّبْهُ عَذَابًا أَلِيْمًا ﴿١٧﴾

نشته پر ړانده باندی هیڅ ګناه او تکلیف او نه په ګوډ باندی هیڅ ګناه او تکلیف او نه په ناروغ باندی هیڅ ګناه او تکلیف (ځکه چی جهاد پر دغو معذورانو فرض نه دی) او هر هغه څوک چی اطاعت وکړی ومنی حکم د الله او د رسول د دغه (الله) نو داخل به ئی کړی (الله) دی په جنتونو کښی چی بهیږی له لاندی (د ونو او مانیو) د هغو (څلور قسمه) ویالی او هر هغه څوک چی وګرځید (له احکامو د الله) نو (الله) به په عذاب کړی دی په عذاب ډیر دردناک سره

**تفسیر:** په ګردو(ټولو) امورو او معاملو کښی عامه ضابطه هم دا ده چی متخلفین معذب کړی.

لَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنِ الْمُؤْمِنِيْنَ إِذْ يُبَايِعُوْنَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ

خامخا راضی او خوښ شوی دی الله تعالیٰ له مؤمنانو نه هغه وخت چی بیعت ئی کاوه له تا سره د لاندی د ونی

**تفسیر:** دا د «کیکر» ونه وه غالباً د ﴿لَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنِ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾ الآية ـ د فرمایلو له سببه دغه بیعت ته (بیعة الرضوان) وائی چی د هغه مفصله قصه د دی سورت په شروع کښی تیره شوه.

فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ

بیا معلوم کړ (الله په ظاهری علم سره هم) هغه (اخلاص) چې په زړونو د دوی کښې وو

**تفسیر:** د ظاهر اندیښنه او د زړه توکل، حسن نیت، صدق، اخلاص اسلامی مینه او نور.
**تنبیه:** ګردو(تولو) مفسرینو له ﴿مَا فِي قُلُوبِهِمْ﴾ څخه هم دا مراد اخیستی دی مګر ابوحیان رحمة الله علیه وائی چې له دی نه د روغی او د روغی له شرایطو څخه هغه رنځ، غم، او اضطراب چې زړونو ته وررسیدلی وو مراد دی په دی تقدیر سره وروسته له دی نه ﴿فَأَنزَلَ السَّكِينَةَ﴾ ډیره ښه ورسره لګیږی والله اعلم.

فَأَنزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا ﴿١٨﴾ وَمَغَانِمَ كَثِيرَةً يَأْخُذُونَهَا

بیا راښکته کړه (الله) سکینه او ډاډینه(سکون) پر دوی باندی او عوض ئی ورکړ (الله) دوی ته بری نژدی، (چې فتح د خیبر ده) او ولجی(غنیمت) ډیری چې وابه خلی دوی هغه (ولجی)

**تفسیر:** مراد له فتحی نژدی څخه فتحه د خیبر ده چې د حدیبیی له بیرته راتګ څخه سم د لاسه پیښه شوه او زیاتی ولجی(غنیمت) په لاس ورغللی چې له هغو سره مجاهدین هوسا (خوشاله) او خوښ شول.

وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿١٩﴾

او دی الله همیشه قوی غالب ډیر حکمت والا

**تفسیر:** الله تعالیٰ په خپل زور او حکمت سره، د حدیبیی نقصانونه! په دی ځای کښې تلافی او معاوضه کړل او په فتحه د مکی معظمی او حنین کښې هم داسی تلافی او معاوضی په ظهر ورسیدی.

وَعَدَكُمُ اللّٰهُ مَغَانِمَ كَثِيرَةً تَأْخُذُونَهَا فَعَجَّلَ لَكُمْ هٰذِهٖ

وعده کړی ده له تاسي سره الله د غنائمو او ولجو ډیرو چی وابه ئی خلی تاسی هغه نو (الله) ژر درکړل تاسی ته دا (غنائم او ولجی)

**تفسیر:** وروسته به ډیری ولجی او غنیمتونه دررسیدونکی وی چی له هغو یو هم دا د خیبر غزا ده چی ستاسی برخه په دی کښی درکړه شوه.

وَكَفَّ أَيْدِيَ النَّاسِ عَنْكُمْ

او (الله) بند کړل لاسونه د خلقو له تاسی نه

**تفسیر:** عام جنګ درپیښ نه شو او په حدیبیی او خیبر کښی ئی د کفارو له لاسه تاسی ته څه ضرر او نقصان ونه رساوه او ستاسی په نشتوالی کښی هیڅا ستاسی اهل او عیال کور او کهول ته هم لاس ونه غځاوه.

وَلِتَكُونَ آيَةً لِلْمُؤْمِنِينَ

او چی شی دا کار نښه (د قدرت د الله) له پاره د مؤمنانو

**تفسیر:** مسلمانان دی وپوهیږی چی د الله قدرت څرنګه دی؟ او د هغوی درجه د هغه په دربار کښی څومره ده؟ او بل دا چی وروسته له دی څخه هم د هغه نوری ګردی(تولی) وعدی هم داسی پوره کیدونکی دی.

وَيَهْدِيَكُمْ صِرَاطًا مُسْتَقِيمًا ﴿٢٠﴾

او الله ښیی تاسی ته لیاره برابره (د توکل په الله باندی په هر کار کښی)

**تفسیر:** د الله تعالیٰ پر وعدو باندی ډاډینه(سکون) او د هغه د لامحدود قدرت پیژندنه او همغه ذات ته د ځان او د جهان سپارنه! د لا زیات اطاعت او حکم منلو ترغیب درکوی، چی هم دا ده د توکل برابره او سمه لیاره.

وَّأُخْرٰى لَمْ تَقْدِرُوْا عَلَيْهَا قَدْ أَحَاطَ اللّٰهُ بِهَا ۚ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرًا ﴿٢١﴾

او بل (ئی درکړی دی تاسو ته غنیمتونه او بری) چی لا نه وی قادر تاسی په هغو (غنیمتونو) باندی په تحقیق (علمی) احاطه کړی ده الله په هغو (غنائمو) باندی هم او دی الله تعالیٰ پر هر شی باندی (چی اراده وفرمائی) ښه قادر او توانا

**تفسیر:** د دی بیعت په انعام کښی ئی د خیبر فتح درکړه او د مکی شریفی فتح چی په هغه وخت کښی په لاس درنغله وروسته له دی څخه به په لاس درشی ځکه چی الله د هغه وعده کړی ده. چی په حقیقت او عالم اسباب کښی هم دا د حدیبیی صلح د مکی شریفی د فتحی مقدمه او توطیه ده.

وَلَوْ قَاتَلَكُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوَلَّوُا الْأَدْبَارَ ثُمَّ لَا يَجِدُوْنَ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿٢٢﴾

او که جنګ وکړی له تاسی سره هغه کسان چی کافران شوی وو نو خامخا به ئی ګرځولی وی شاوی خپلی بیا به ئی نه وو موندلی څوک دوست ساتونکی او نه مددګار

**تفسیر:** که جنګ پیښیده نو بری به ستاسی وو او کافرانو به شا اړوله او تښتیدل به او مدد کوونکیو به دوی له آفته نه شو ژغورلی (بچ کولی) خو د الله تعالیٰ د حکمت داسی اقتضاء وشوه چی سم د لاسه روغه وشی او د روغی د عظیم‌الشانو برکاتو څخه مسلمانان مستفید او ګټور شی.

سُنَّةَ اللّٰهِ الَّتِيْ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلُ ۚ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ﴿٢٣﴾

(طریقه ایښی ده الله د غالبیدلو د حق) په طریقی هغو سره چی په تحقیق سره تیر شوی ده پخوا له دی نه او هیڅ کله به نه مومی ته طریقی د الله لره تبدیل او، اوښتل.

**تفسير:** کله چې د اهل الحق او د اهل‌الباطل په منځ کښې په کومه فیصله کوونکې موقع کښې سره مقابله وشي نو په دغې مقابلې کښې به بالاخر اهل الحق غالب او اهل الباطل مغلوب او مقهوریږي. د الله هم دا عادت له پخوا راهیسې جاري دی چې هیڅ تغییر او تبدیل په کښې پیښیدونکې نه دی. هو! دومره شرط پکښې شته چې اهل الحق په هیئت مجموعي سره په پوره حق منلو باندې تینګ ولاړ وي. ځینو د ﴿ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللهِ تَبْدِيلًا ﴾ معنی داسې اخیستې ده چې د الله عادت بل څوک نشي اړولی. یعنې بل څوک داسې قوت او قدرت نه لري چې پرته(علاوه ) له هغه کاره بل کار پرې وکړي شي چې له سنت الله څخه چپ (مخالف) یا پرته(علاوه ) وي.

وَهُوَ الَّذِي كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ عَنْهُم بِبَطْنِ مَكَّةَ مِن بَعْدِ أَنْ أَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ

او دغه (الله) هغه (ذات دی) چې بند ئې کړل لاسونه د هغو (کفارو) له تاسې څخه او لاسونه ستاسې له هغوی څخه په منځ د مکې کښې پس له هغې څخه چې غالب ئې کړی تاسې په هغوی باندې

**تفسير:** د مشرکانو څو ډلې حدیبیې ته راغلې وې چې که لاس ئې بر شي رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په شهادت ورسوي یا یو نیم مسلمان ګوښې (بېل) ګیر کړي او وئې ربړوي لکه چې داسې څو پېښې هم راپیښې شوې او په دې منځ کښې یو مسلمان هم په شهادت ورسید چټې(بیکاره ) خبرې او د جنګ د اور بلیدلو خبرې هم وشوې، تر دې چې اصحاب الکرام رضی الله تعالیٰ عنهم اجمعین هغه قاتل ونیو او د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم حضور ته ئې ورووړاندې کړ او رسول الله د هغه د انتقام څخه سترګې پټې کړې او وئې باښه. په دې آیت کښې د هم دغو واقعاتو په لوری اشاری دی او (ببطن مكة) د مکې د ښار له منځ څخه مقصد د ښار هغه نږدې منطقه ده چې له ډېره نږدې والې څخه داسې ښکاري لکه مځکه د حرم او یا مابین د ښار.

وَكَانَ اللهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرًا ﴿٢٤﴾

او دی الله په هغه څه چې کوی ئې تاسې ښه لیدونکی

**تفسير:** الله تعالیٰ ته د کفارو شرارتونه او ستاسې عفو او تحمل ښه معلوم دی او وینی ئې. نو جزا به پرې درکړي.

هُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَالْهَدْيَ مَعْكُوْفًا اَنْ يَّبْلُغَ مَحِلَّهٗ ؕ

دوی هغه کسان دی چی کافران شوی دی او منع کړی ئی وی تاسی له مسجد الحرام څخه او (منعه کړی ئی وی) قربانی د تاسی په دی حال کښی چی بندی کړی شوی وی له دی نه چی ورسیږی ځای د حلالولو خپلو ته

**تفسير:** د حرم تر هغی برخی پوری ئی د قربانی حیوانات پری نه ښودل چی هلته ئی بوځی او په مشروعه طریقه سره ذبح کړی او هملته په حدیبیی که بند پاتی شول.

وَلَوْلَا رِجَالٌ مُّؤْمِنُوْنَ وَنِسَآءٌ مُّؤْمِنٰتٌ لَّمْ تَعْلَمُوْهُمْ اَنْ تَطَـُٔوْهُمْ فَتُصِيْبَكُمْ مِّنْهُمْ مَّعَرَّةٌۢ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۚ لِيُدْخِلَ اللّٰهُ فِيْ رَحْمَتِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ۚ

که چیری نه وی (پټ په کفارو کښی) څو سړی ایمان راوړونکی او څو ښځی ایمان راوړونکی چی نه پیژندل تاسی هغوی لره (په صفت د ایمان سره دا خطره) چی پایمال کړی وو تاسو هغوی (هم سره له کفارو) پس رسیدلی به وو تاسی ته له هغوی څخه ضرر او غم په ناپوهی سره (نو د جهاد حکم به ئی درکړی وی لیکن حکم ئی در نه کړ) دپاره د دی چی داخل کړی الله په رحمت خپل کښی هر هغه چی اراده وفرمائی (د داخلولو ئی)

**تفسير:** هغه مسلمانان نارینه او ښځی چی په مکی کښی مظلوم او مقهور اوسیدل او د مدینی منوری مسلمانانو له هغوی سره پوره پیژندګلو نه درلوده(لرله) هغوی به په جنګ کښی د ناپوهی په سبب پایمال او لتاړ کیدل که دا ویره نه وی نو سم د لاسه به د جنګ کولو امر کیده خو که داسی امر صادریدی نو تاسی به په دی قومی نقصان باندی متاسف او خپه کیدی او کافرانو ته به د داسی ویناؤ موقع په لاس ورتله چی «وګوری! مسلمان د خپل مسلمان پت (عزت) هم نه ساتی». نو ځکه مو جنګ منع کړ تر څو هغه مسلمانان محفوظ او ساتلی پاتی وی او پر تاسی باندی د دی بیمثاله صبر او تحمل له سببه الله خپل رحمت اوروی او له دی کافرانو څخه هغه سړی چی د هغو مسلمان کیدل مقرر او مقدر دی ښائی په دی خطرناکی جګړی کښی له لاسه ونه وځی او د الله تعالیٰ په رحمت کښی پخپلی نیتی داخل شی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه

لیکی «په دی گردی (تولی) قصی کښې تول ضد او د کعبې شریفې بې ادبی د هم دغو مشرکانو له پلوه وشوه تاسی مسلمانان په ادب وی کفارو عمره کوونکی منع کړل قربانی ئې پرې نښودی چې خپل ځای ته ورشي بیشکه دا ځای د دی وړ (لائق) وو چې په همغه وخت کښې ستاسی په لاسونو فتح کیده نو کله چې ځینې مسلمانان نارینه او ښځی په مکه کښې پټ اوسیږی او ځینې هغه کسان چې د هغوی مسلمان کیدل مقدر دی هم په دی جنګ کښې لتاړیدل او له لاسه وتل نو ځکه مو جنګ معطل کړ د روغې په هغو دوو کلونو کښې هومره سړی چې مسلمان کیدونکی وو مسلمان شول او هغه مؤمنان چې وتونکی وو ووتل نو وروسته له هغه په مکه معظمه کښې جګړه ونښته او فتحه وشوه.

لَوْ تَزَيَّلُوا لَعَذَّبْنَا الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿٢٥﴾

که چیری جلا(جدا) شوی وی دغه (مسلمانان له کفارو نه) نو خامخا به مو په عذاب کړی ؤ هغه کسان چې کافران شوی دی له دغو (اهل د مکی) څخه په عذاب ډیر دردناک سره

**تفسیر:** که مسلمانان له کافرانو څخه جلا(جدا) اوسیدی او مسلمانان له هغوی سره داسی ګډوډ نه وی پراته نو تاسی به کتل چې مونږ کافرانو ته د مسلمانانو په لاس څومره خوږوونکی سزاوی ورکولی.

إِذْ جَعَلَ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي قُلُوبِهِمُ الْحَمِيَّةَ حَمِيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ فَأَنْزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ وَعَلَى الْمُؤْمِنِينَ

کله چې وګرځولی وو هغو کسانو چې کافران شوی وو په زړونو خپلو کښې ننګ هسی ننګ چې د جاهلیت ناپوهی وه نو راښکته کړی الله ډاډینه(سکون) او اطمینان خپل پر رسول خپل او پر مؤمنانو باندی

**تفسیر:** د ناپوهی ضد دا دی چې سږکال عمره ونه کړی، هغه مسلمانان چې له مکی څخه هجرت کوی هغوی بیرته رالیږی کال ته دی عمری ته راشي او زیات له دریو ورځو څخه به په مکه کښې نه اوسی علاوه پر دی وسلی له خپله ځانه سره ونه لری، په روغلیک (صلحنامی) کښې بسم الله الرحمٰن الرحیم مه لیکی! د محمد رسول الله په ځای یواځی محمد بن عبدالله ولیکی حضرت رسول اکرم دا ګردی(تولی) خبری ومنلی او اصحابو سره د سخت انقباض او اضطرابه د پیغمبر له ارشاد

سره سم دی ته غاړه کیښوله او په پای (آخر) کښې په هم دی فیصلی باندی د هغوی زړونه مطمئن شول.

وَأَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوَىٰ وَكَانُوا أَحَقَّ بِهَا وَأَهْلَهَا ۚ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ﴿٢٦﴾

او ټینګه لازمه ئې کړله هغوی لره کلمه د تقویٰ (خبره د ادب) او وو دوی ښه لائق وړ(مستحق) له دغه سره او اهل د دی (کلمی د تقویٰ) او دی الله په هر شی باندی ښه پوه

**تفسیر:** له الله تعالیٰ وویرېږی او د نافرمانی له لیاری څخه ځان وژغوری(وساتی) او د کعبی په ادب باندی په مضبوطی سره ټینګ واوسی او ولی به نه اوسی چی تاسی په دنیا کښې د واحد الله تعالیٰ رښتین منونکی او د **(لا اله الا الله محمد رسول الله)** زبردست قایلان عاملان او حاملان ئی او د یوه پوخ او موحد پیغمبر حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم مطیع او وفادار امتیان ئی او خپل جذبات او رجحانات مو په جوش کښې د الله جل جلاله په خوښی او د هغه د شعائرو په تعظیم کښې جار(قربان) کړی دی. حقیقی توحید هم دا دی چی سړی د هغه واحد الله تعالیٰ اوامر او احکام واوری او د خپل عزت او د ذلت خبری د هغه په مخکښې یوه خوا ته کیږدی. ښائی د هم دی لامله (له وجی) په حدیث کښې د (کلمة التقویٰ) تفسیر په ﴿ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ ﴾ سره شوی وی. ولی چی زیاتره د طهارت او د تقویٰ اساس هم دا پاکه کلمه ده چی د دی د منلو او د حق د اداء کولو دپاره الله تعالیٰ د رسول اکرم اصحاب غوره کړی وو او بیشکه هم دوی د الله تعالیٰ په علم کښې د دی خبری اهل او مستحق هم وو.

لَقَدْ صَدَقَ اللَّهُ رَسُولَهُ الرُّؤْيَا بِالْحَقِّ ۖ لَتَدْخُلُنَّ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ إِنْ شَاءَ اللَّهُ آمِنِينَ مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُمْ وَمُقَصِّرِينَ لَا تَخَافُونَ ۖ

خامخا په تحقیق رښتیا ښودلی دی الله رسول خپل ته خوب د ده په حقه او رښتیا سره چی خامخا به داخل شی تاسی مسجد حرام ته که اراده وفرمائی الله په امن او آرام سره حال دا چی خریونکی به وی د سرونو خپلو او لنډوونکی به وی (د ویښتو خپلو) او نه به ویریږی تاسی (له هیچا هیچیری)

**تفسیر:** د دی سورت په ابتدا کښی ذکر شوی دی چی په مدینی منوری کښی رسول اکرم صلی الله علیه وآله وسلم خوب ولید چی مونږ په مکی کښی داخل شوی یو سر خرییلی او ویښتان پری کری، له احرامه وتلی، حلال شوی یو له بل لوری اتفاقاً په هم دی کال کښی دوی د عمری قصد وفرمایه په اصحابو کښی زیاتره هم دا خیال تینګ شو چه په هم دی کال کښی به مونږ مکی ته رسیږو او عمره به اداء کوو. کله چی روغه غوته شوه او دوی له حدیبیی څخه بیرته راوګرځیدل ځینو اصحابو عرض وکړ چی «آیا تاسو نه وو فرمایلی چی مونږ به په امن او امان سره په مکی معظمی کښی داخلیږو او عمره به اداء کوو» دوی وفرمایل چی «ما داسی هم ویلی وو چی سږکال به داسی کیږی؟» هغوی عرض وکړ «یه» نو وی فرمایل چی «بیشکه هم داسی به کیږی! او تاسی به په امن او امان سره مکی ته رسیږی او د بیت الله الشریف طواف به کوی، او له تاسی ځنی به ځوک سر خری ئی او ځوک به ویښتان لندوی او احرام به خلاصوی او د هغه ځای له ورتګه به هیڅ راز(قسم) فکر او اندیښنه تاسی ته نه وی» لکه چی د حدیبیی له کال څخه وروسته هم داسی هم وشو. په دی آیت کښی ئی هم دا فرمایلی دی چی په تحقیق سره الله خپل رسول ته رښتیا خوب ورلیدلی دی. پاتی شو د ( إن شاء الله) فرمایل د «ابن کثیر » په نزد دا إن شاء الله د تحقیق او توکید دپاره ده. (سیبویه) وائی په داسی ځایونو کښی چی د یوه شی په قطعی ډول(طریقه) سره وربنوول د ځینو مصلحتونو له مخی مقصود نه وی او کول ئی منظور وی داسی عنوان غوره کاوه شی. یا محض دپاره د تبرک، الله تعالیٰ «إن شاء الله» فرمایلی دی یا لپاره د تعلیم د بندګانو خپلو ئی فرمایلی دی یعنی هر مؤمن لره مناسب دی چی د راتلونکو کارونو په نسبت إن شاء الله ووائی!

فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوا فَجَعَلَ مِن دُونِ ذَٰلِكَ فَتْحًا قَرِيبًا ﴿٢٧﴾

نو معلوم دی الله ته (فوائد د دغی صلحی) هغه څه چی نه پوهیدی تاسی نو وئی ګرځوله پخوا له دغه داخلیدلو د مکی نه فتحه او بری نژدی.

**تفسیر:** بیا الله تعالیٰ له خپل محیط علم سره سم د واقعاتو سلسله قائمه کره. الله تعالیٰ ته دغه خبره معلومه وه چی د خوب د تعبیر په ښکارولو کښی وروسته له یوه کال څخه څومره ګټی او مصالح دی چی عام خلق پری نه دی خبر نو ځکه ئی د خوب د تعبیر وقوع بل کال ته وځنډوله (ایساره کره) . او د هغه له وقوع څخه ئی پخوا تاسی ته سم د لاسه یو بل بری دروباښه یعنی د خیبر بری یا د حدیبیی روغه چی هغی ته اصحاب الکرام رضی الله تعالیٰ عنهم (فتح مبین) ویله لکه چی د دی سورت په اول کښی زمونږ دغه تفسیر د دی خبری تفصیلات لیکلی شوی دی.

هُوَ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ

دغه (الله) هغه ذات دی چی رالیږلی ئی دی رسول خپل په (ښوونه د) سمی لیاری او دین حق سره (چی دین د اسلام دی)

**تفسیر:** د اصولو او فروعو او عقائدو او احکامو په اعتبار دا دین رښتیا دی او هم دا سمه لیاره ده چی محمد صلی الله تعالیٰ علیه وعلیٰ آله واصحابه وسلم راوړی ده.

لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ ؕ

لپاره د دی چی غلبه ورکړی (پورته کړی هغه دین) پر دینونو تولو باندی

**تفسیر:** الله تعالیٰ دا دین په ښکاره ډول(طریقه) تر سلهاوو کلونو پوری پر ګردو(تولو) مذاهبو باندی غالب کړی دی. او مسلمانانو تر څو پیریو پوری په تول بشریت باندی حکومت او تسلط درلود(لرلو) او په راتلونکی زمانی کښی د دنیا له ختمیدو سره نژدی هم داسی یو وخت راتلونکی دی چی په هر ځای کښی به د دی حق دین حکومت او تسلط وی. د استدلال او حجت له مخی به هم د اسلام دین تل غالب وی لکه چی اوس هم غالب دی.

وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ۞ ؕ ٢٨

او کافی بس دی الله ښه شاهد (حق ثابت کوونکی)

**تفسیر:** الله تعالیٰ د دی دین په حقانیت باندی ګواه دی او همغه ذات پخپل قدرت سره حق ثابت کوونکی دی یا کافی بس دی الله شاهد په وعدو خپلو یا په نبوت او رسالت د رسول خپل یعنی محمد صلی الله علیه وسلم لکه چی د دوی عالی شان په وروسته کښی داسی بیانیږی.

مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ؕ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗٓ اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ

محمد رسول او رالیګل شوی د الله دی (په حق سره)، او هغه کسان چی له ده سره دی سخت دی از روی مقابله او مجاهده پر کافرانو باندی

**تفسیر:** د کافرانو په مقابل کښې هسې سخت، مضبوط او قوی دی چې له هغو څخه گرد(تول) کافران ویرېږي او له کفر څخه نفرت او بیزاری ښکاروی لکه چې الله تعالیٰ د جزء ۱۱ د توبې د سورت په (۱٦) رکوع ۱۲۳ آیت کښې فرمایلي دي ﴿ وَلْيَجِدُوا فِيكُمْ غِلْظَةً ﴾ او هم داسې د (توبې) په لسمه رکوع ۷۳ آیت کښې ﴿ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ ﴾ او د جزء ٦ د (مائدې) په اتمه رکوع ٥٤ آیت کښې ئې ﴿ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ ﴾
فرمایلي دي. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکي «هغه تندی او نرمي چې د چا په خوی کښې وي ښائي هر چېرې برابر وي او هغه چې په ایمان سره ښائسته شوي وي نو د هغه تندی او نرمي پخپل ځای کښې ځرگندیږي (ښکاره کیږي) عالمان وائي چې له کفارو سره احسان او ښه کول که د کوم شرعي مصلحت له مخې وي نو څه مضائقه نه لري خو د دین په معامله کښې له هغوی سره هیڅ سستي کول په کار نه دي.

رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ

مهربانان او زړه سواندي دي پخپلو منځونو کښې

**تفسیر:** دوی پخپلو منځونو کښې یو تر بله ډېر شفقت او مهرباني کوي. یو په بل باندې د ضرورت په وخت کښې سر ایږدي، له مال، ځان اولاد تولو نه ورته تیرېږي.

تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا ز

وینې به ته هغوی، رکوع کونکي او سجده کونکي! غواړي دوی په دې عبادت سره ، فضل او مهرباني له الله تعالیٰ نه، او غواړي رضامندي د هغه

**تفسیر:** دا هغه خاص بندگان د الله تعالیٰ دي، چې په تولو عملونو کښې خصوصاً په لمانځه کښې چې یو لوی رکن د اسلام دی یوازې او یوازې اخلاص او عجز الله تعالیٰ ته ښکاره کوي مهرباني او رضا د هغه غواړي. هیڅ ریاکاري او نور باطل غرضونه د دوی په شان کښې نه لیدل کیږي.

سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِم مِّنْ أَثَرِ السُّجُودِ ط

نښې د دین داري د دوی ثابتې دي په مخونو د دوی کښې له اثر د سجدو نه یعنې هغه انوار چې په اوداسه، لمانځه او سجدې سره په وجود د بنده کښې پیدا کیږي هغه نورانیت د دوی په وجودونو کښې له ورایه بریښي.

**تفسیر:** په آدا د لمانځه سره بنده ډیرو لوړو(اوچتو) کمالاتو ته رسیږی، مشکلات د دنیا او د آخرت په لمانځه سره حل کیدی شی خو په شرط د دی سره چی لمونځ کامل شی، اصحاب د احمد صلی الله علیه وسلم اولین اشخاص دی چی دوی لمونځ کمال ته رسولی و نو ځکه الله تعالیٰ د دوی صفت په قرآن کښی بیانوی، اثر د نورانیت ئی په سجدی سره د دی لپاره خاص ذکر کړی چی په سجده نه کولو سره شیطان له درباره د رحمت نه ورټل شو او انسان به د هم دی سجدی له لاری لوړو(اوچتو) کمالاتو ته رسیږی د اووم آسمان ملائکی چی له وخته دی پیدایښت نه تر پو کولو د شپیلی د اسرافیل علیه السلام پوری په سجده پرتی دی دا له مهمیت د سجدی او له کمال د بندگی نه.
محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم ته به چی یو ښه نعمت ورسید نو علی الفور به په سجده پریوت په بل ځای کښی د سجدی اهمیت داسی بیانیږی ﴿ وَظِلٰلُهُمْ بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ ﴾ په صحرا د محشر کښی چی امت د محمد مصطفیٰ خاص او ممتاز بریښی، له آثارو د اوداسه او لمانځه ځنی دی، چی په حدیث کښی په نامه د «**الغر المحجلون**» سره یادیږی.

---

## ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرٰىةِ ۖۛ وَمَثَلُهُمْ فِي الْاِنْجِيْلِ ۚۛ

---

دا اوصاف هغه اوصاف دی، چی مثالونه ئی په تورات کښی بیان شوی، او دا هغه اوصاف دی چی مثالونه ئی په انجیل کښی بیان شوی.

---

**تفسیر:** د اصحابو د محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم د فضائلو او د کمالاتو بیان په نورو آسمانی کتابونو کښی هم راغلی دی. هم دا وجه ده چی ډیرو پوهانو له اهل د کتاب نه چی تنگ نظری نه درلوده (لرله)، اصحاب کرام به ئی چی ولیدل نو به ئی سم د لاسه تصدیق کاوه چی دوی په مثل د حواریونو د حضرت مسیح علیه السلام غوندی ښکاری.

---

## كَزَرْعٍ اَخْرَجَ شَطْــَٔهٗ فَاٰزَرَهٗ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوٰى عَلٰى سُوْقِهٖ

---

لکه هغه کښت (فصل) چی راوباسی ښانگی خپلی بیا ئی ملا خپله تینگه کړی، بیا کلکه شی دغه ښانگه بیا ودریږی دغه کښت (فصل) پس له ضعیفی او نرمی نه په پنډیو او بیخونو خپلو باندی

---

**تفسیر:** الله تعالیٰ حضرات صحابه، په تقویه د دین کښی له کښت (فصل) او زراعت سره تشبیه کوی یعنی لکه ځنګه چی کښت (فصل) او زراعت په ښلورو مراحلو او مراتبو سره، ثمر او

پخوالي ته رسيږي، هم دا رنګه، اصحابو خصوصاً خلفاو راشدوو پخپلو دورو د خلافت کښې دين د اسلام ئې درجه په درجه ثمر او پخوالي ته ورساوه، که د دوی مقام علمي، مناقب او تاريخ د کارنامو ولټول شي، دا څلور کلمې د دوی له کارنامو سره په ابلغه وجه سره داسې تشبيه کيدی شي اخرج شطئه دوره د صديق. (فآزره) دوره د فاروق (فاستغلظ) دوره د ذی نورين. (فاستوی علىٰ سوقه) دوره د اسد الله! دوی هغه برجسته او غيور شخصيتونه دی، چې په کارنامو خپلو سره ئې تاريخ د بشريت او د اسلاميت د هميش لپاره روښانه او ژوندی ساتلي دی.

آيت د ﴿ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا ﴾ مصداق د تولو اصحابو ګرزيدلي شي، خو سره له دې بيا هم درجه بندی د مراتبو د دوی له نظر نشي وتلی خصوصاً د هغو کسانو چې په بيعت الرضوان کښې شامل وو ځکه چې هغوی يو خاص رول لوبولی دی.

## يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ

په داسې حال کښې چې قوت د دې کښت (فصل) په تعجب کښې اچوی بزګران (زميدار).

**تفسير:** تشبيه د اصحابو له بزګرانو (زميدارو) سره په تدبير او غيرت کښې، او تشبيه د دين د اسلام له کښت (فصل) سره په قوت او کثرت کښې! ډيره ابلغه او مناسبه تشبيه ده يعنې لکه څنګه چې اصحاب کرام په صدر اسلام کښې ډير کم او په يوه حالت د غربت او ناتوانی کښې وو، خو وروسته وروسته ډير قوت او کثرت ته ورسيدل حتیٰ چې په تول جهان د بشريت بلکه په ثقلينو باندی مسلط شول، او هم دا رنګه دين د اسلام هم په يوه حالت د غربت او ناتوانی کښې و خو وروسته وروسته په ډير زر وخت کښې داسې قوت او شهامت ته ورسيد چې تول جهان د بشريت او د ثقلينو پيروی هغې ته مجبور شول او خلق فوج فوج په دين د اسلام کښې داخل شول، بله وجه د ابلغيت د کښت (فصل) دا ده چې دا مثال عموميت لری په هيڅا پټ او خفی نه پاتې کيږی، او لکه څنګه چې کښت (فصل) قوت ظاهری د وجود د انسان ګرزی، هم دا رنګه اسلام قوت باطني د وجود د انسان ګرزی.

## لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ

دا قوت د دې لپاره دی چې په قهر راولي کفار

**تفسير:** اسلام په دې قوت او رونق سره، د کفارو په زړونو کښې د حسد او کينې اورونه بلوی،

چې دا کار پخپل ذات کښې لويه فتنه او مرض ګرزي د دوی په زړونو او فکرونو کښې

وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنْهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۲۹﴾

وعده کړې ده الله تعالیٰ له هغو کسانو سره چې ايمان ئې راوړی او عملونه نيک ئې کړي دي دوی لره د ښښنې او د اجر ډير لوی، چې (جنت، لقا او رضا د الله تعالیٰ ده)

**تفسير:** دا وعده له هغو کسانو سره ده چې ايمان لرونکي وي او ښه عملونه کوي، هغه څوک چې په داسې صفتونو موصوف وي، حضرات صحابه دي. خو د انديښنې د خاتمې له امله(وجې)، چې خاتمه مستوره ده، حق تعالیٰ خپلو بندګانو ته داسې صاف زيرې وانه وراوه، لپاره د دې چې له ويرې د خاتمې نه غافل او بې پروا پاتې نشي، نو د ذات صمد دومره ستاينه (صفت) ډيره غنيمت او عالي ده.

## تمت سورة الفتح

سورة الحجرات مدنية وهي ثمان عشرة آية وفيها ركوعان

د الحجرات سورت مدني دی اتلس آيات او دوه رکوع لري

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

شروع کوم په نامه د الله چه ډير زيات مهربان پوره رحم لرونکی دی

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيِ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ

ای هغو کسانو چې ايمان مو راوړی مه وړاندې کوئ مفکوري خپلي په مخکښې له صدوره د اوامر د الله تعالیٰ او د رسول د هغو بلکه انتظار کوئ او امر د هغوی لره.

**تفسير:** په کوم کار او فيصله کښې چې له طرفه د الله تعالیٰ او د رسول د هغه، کومه اميدواري د اصدار د حکم! لرئ نو عجله مه کوئ چې پخپلې رأی او فکر سره حکم وکړئ بلکه انتظار وباسئ حکم د ذات احد لره، کله چې حضرت پيغمبر صلی الله عليه وسلم ارشاد درته وفرمايه، نو

په ډير ښه سکوت او ادب سره، د دوی مبارکو ارشاداتو ته غوږ ونيسي او په ډيرې پاکې عقيدې سره ئې قبول او په عمل کښې ئې پيدا کړي.

**تنبيه:** په انسانانو خصوصاً په مسلمانانو لازمه ده، چې آراء او افکار خپل په ټولو امورو کښې! تابع د امورو اسلامي وو، وګرزوي ځکه انسان په آراوو خپلو سره په ټولو امورو کښې اعتماد نشي کولی، بلکه په سلو کښې سل خطا کيږي او ناکاميږي، او پيروی د آراوو انسان! له ټولو بد مرغيو او کړاونو سره مخامخ کوي.

يوازې او يوازې اسلامي دستورات دي، چې په ټولو لارو، چارو باندې سل په سلو کښې ټيک وي، نو هم دا وجه ده چې الله تعالیٰ په مقابل د امر خپل او د رسول د هغې، کښې! اختيار د بنده سلبوی او فرمائي ﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ﴾

او په حديث د مشکوٰة کښې په روايت د عبدالله بن عمرو سره راغلی دی کمال د ايمان د اهل آراء او بدع سلب وي او فرمائي:

**(لا يؤمن احدكم حتى يكون هواه تبعاً لما جئت به)**

که په دقت سره ځيرل (غور) وشي ټولو ته! په تجربه او مشاهده سره ثابتيږي، چې ټولې بدمرغي او کړاونه بشريت ته، د پيروی د آراوو او خواهشاتو نه وررسيږي.

---

وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ①

---

وويريږئ له الله تعالیٰ ځنې هر وخت الله تعالیٰ اوريدونکی او ښه پوه دی

---

**تفسير:** حقيقي فرمان برداري د الله تعالیٰ هغه ده، چې د زړه له کومې وي، او که په خوله ناري سوري د اسلام او اصلاح وهي، او په زړه کښې ئې نفاق او عمل ئې هم د فساد وي، داسې رويه د هيڅا په درد نه خوري ځکه څه؟ چې په خوله ويل کيږي الله تعالیٰ ئې آوري، او څه؟ چې په زړونو کښې ساتل کيږي الله تعالیٰ ښه پرې پوهيږي، نو بهتر به دا وي چې له داسې مکارۍ ځخه هر څوک ځان وساتي، او په ټول قدرت او طاقت سره ځان په اسلامي شعائرو باندې سنبال کړي، په حضور او غياب کښې له خالق او مخلوق سره يو شان په ډير صداقت سره چال چلند وکړي.

---

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوا لَهُ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ أَنْ تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تَشْعُرُونَ ②

---

ای هغو کسانو چې ايمان مو راوړی، مه پورته کوئ آوازونه خپل برسيره په

آواز د پیغمبر او په لوړه(اوچته) مه پورته کوی ده لره آواز په خبرو کښې لکه په لوړ(اوچت) آواز خبری د بعضو د تاسو له بعضو نورو سره، له جهته د ویری د دی چې ضایع به شي عملونه د تاسی او تاسی به پری خبر نه وی.

**تفسیر:** په مجلس د حضرت محمد رسول الله کښې به په داسی شور او غوغا سره غږیدل لکه چې پخپلو منځونو کښې به په هغی سره غږیدل، چې دا کار په داسی عالی حضور کښې ډیره لوی بی احترامی او بی ادبی ده، او په بی ادبی سره انسان له لطف د رب او د رسول او د هر حضور عالیه ځنی محروم پاتی کیږی، په ادب سره مقام د انسان له ملائکو ځنی پورته کیږی او په بی ادبی سره مقام د انسان له خاورو سره خاوری کیږی.

صالح اولاد په مقابل د مور او پلار، صالح شاګرد په مقابل د استاد، صالح مرید په مقابل د مرشد، صالح مامور په مقابل د آمر کښې څومره ادب ساتی، نو تر تولو نه چې مهمتر او اول تر! ادب وساتل شی، په مقابل د محمد کښې (دی)، ځکه د هغوی مقام تر هر څه نه عالی او لوړ(اوچت) دی، که لږ څه تغییر په فکر د آنحضرت کښې پیښ شی! ډیر خطر د دی شته چې عملونه ستاسی هبت او ضایع شی او تاسی به پری خبر هم نه وی.

**تنبیه:** د قاطعه نصوصو څخه داسی څرګندیږی(ښکاره کیږی) چې دا ادب او احترام ته آنحضرت صلی الله علیه وسلم څه ضرورت نه لری او نه ئی د افتخار دپاره غواړی. بلکه دی ادب ته انسان په شرافت مندانه ژوند کښې اشد ضرورت او احتیاج لری. په حدیث کښې وائی: **(انا اکرم الاولین والآخرین ولا فخر)** او هم دغه ادب او احترام دی چې په واسطه د هغی سره، استفاده ظاهری او باطنی میسر کیدلی شی، او په واسطه د هغی سره! نظم د کورنیو او اجتماعاتو برقرار کیدلی شی. نو له دی کبله(وجی) ضرور ده چې د علماوو حقانیوو، او اولوالامر سره هم داسی احترام او ادب وشی.

او که چاته زیارت د مدینی منوری میسر شی، باید هلته هم داسی ادب او احترام وشی لکه چې په ژوند کښې ورسره کیږی.

---

إِنَّ الَّذِينَ يَغُضُّونَ أَصْوَاتَهُمْ عِندَ رَسُولِ اللَّهِ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ امْتَحَنَ اللَّهُ قُلُوبَهُمْ لِلتَّقْوَىٰ ۚ

---

هر هغه کسان چې ټیټوی آوازونه خپل په نزد د رسول الله دا دله هغه کسان دی چې آزمویلی دی الله تعالیٰ جل جلاله زړونه د دوی لپاره د پرهیزګاری او ویری له ده ځنی.

**تفسير:** هغه څوک چې په مجلس د محمد رسول الله کښې، په تواضع او ادب سره خبرې کوي، او په مقابل د پيغمبر کښې آوازونه خپل نه پورته کوي، دوی هغه کسان دي چې الله تعالیٰ جل جلاله د دوی زړونه د تقویٰ او پرهيزګارۍ لپاره آماده کړي يعنې خپل الٰهي توفيق ئې له دوی سره ملګری کړی دی.
لوی شعائر په اسلام کښې څلور شيان دي! (قرآن، پيغمبر، کعبه، لمونځ) تر هر څه د مخه لازم دي چې د دې څلورو شيانو احترام وساتل شي، الله تعالیٰ جل جلاله په احترام د شعائرالله کښې فرمائي: ﴿وَمَنْ يُعَظِّمْ شَعَآئِرَ اللّٰهِ فَاِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ﴾ جزء ١٧ الحج رکوع(٤) آيت ٣٢ هغه څوک کولی شي چې د (شعائرالله) احترام وساتي چې زړه ئې په توله معنی پاک او صاف وي.
د محمد رسول الله له لويو صفتونو څخه چې په تورات کښې پيش بينی شوی وو، يو له هغی نه په تيت آواز غږيدل وو. په حديث کښې راغلي **(ولا سخاب في الاسواق)** په جزء ٢١ سورة لقمان رکوع(٢) آيت ١٩ کښې په لوړ(اوچت) آواز باندې غږيدل له (خره) سره تشبيه کوي او وائي:
﴿وَاقْصِدْ فِيْ مَشْيِكَ وَاغْضُضْ مِنْ صَوْتِكَ اِنَّ اَنْكَرَ الْاَصْوَاتِ لَصَوْتُ الْحَمِيْرِ﴾

لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿٣﴾

دوی لره ده ښښنه عوض او ثواب لوی.

**تفسير:** له دې نه چې دوی په ډير اخلاص او غيرت سره د شعائر الله احترام ساتي او له رحمت العالمين سره ډير احترام او ادب ساتي، نو که کله وخت له دوی نه څه کوتاهي او خطا پېښيږي، الله تعالیٰ ډير مهربان دی د دوی ګناهونه ښښي او لوی اجرونه ورته نصيب کوي.

اِنَّ الَّذِيْنَ يُنَادُوْنَكَ مِنْ وَّرَآءِ الْحُجُرٰتِ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿٤﴾ وَلَوْ اَنَّهُمْ صَبَرُوْا حَتّٰى تَخْرُجَ اِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ۚ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٥﴾

هر هغه کسان چې چغې وهي تا لره، د کورنو د امهات المؤمنونو نه، له هغه خوا اکثری د دوی عقل نه لري، که چيرې دوی صبر کړی وی تر هغو پورې، چې راوتلی وی ته دوی لره، نو دا صبر به په خير تماميده دوی لره او الله تعالیٰ جل جلاله ډير ښونکی او مهربان دی.

**تفسير:** د بني تميمو قوم لپاره د ليدلو د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم مديني منورې ته راغلل، او حضرت رسول الله صلى الله عليه وسلم په کور کښې تشريف درلود(لرلو)، دوی د بيرون

نه ورته چغې وهلې! اې محمده راووزه، دا د دې نه وه چې دوى پوهه نه درلوده(لرله)، او ايجابات اخلاقي ئې نه مراعات كول، حضرت محمد ئې يو عادي شخص فكر كاوه، حال دا چې حضرت محمد عالي شخصيت دى، دومره چې دى له خلق او خالق سره كار او علائق لرى هيڅوک ئې نه لرى كيدى شي په هغه وخت كښې چې دوى چغې وهې آنحضرت په وحى گرفتار وى نو لازمه ده چې په ډير لوړ(اوچت) ادب او احترام له دوى سره چال چلند وشي، عام د دى نه كه په ژوند ئې شرف ياب شوى وى او يا ئې په مزار او زيارت شرف ياب كيدونكى وى، ځكه دى جامع الكمالات واله خالق او مخلوقه سره ئې جامع علاقه درلوده(لرله)، او ژوند ئې په يوه جامع ادب او عالي پروگرام باندى تياروه، او هم دا رنگه ئې د مسلمان لپاره د جامع فكر، ادب او عمل ارشاد فرمايلى دى.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِن جَآءَكُمْ فَاسِقٌۢ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوٓا۟ أَن تُصِيبُوا۟ قَوْمًۢا بِجَهَٰلَةٍ فَتُصْبِحُوا۟ عَلَىٰ مَا فَعَلْتُمْ نَٰدِمِينَ ﴿٦﴾

اې هغو كسانو چې تاسو ايمان راوړى، كه چيرته راتگ وكړ تاسو لره فاسق او بدكار! په يوه خبر سره، نو تاسو ښه تحقيق پكښې وكړى، له جهته د ويرى د دى چې وبه رسوى تاسو يوه قوم لره ضرر او تاوان په ناپوهى سره نو پس وبه گرزئ تاسو په هغه څه سره چې مو عمل كړى دى خفه او پښيمانه

**تفسير:** تولي شخړى او جگړى، بغض او عداوت، انسان ته د دروغو له لارى پيښيږى، نو له دى خاطره الله تعالىٰ جل جلاله بندگانو خپلو ته ارشاد فرمائى كه چيرى تاسو ته كوم بدكاره انسان په كومه موضوع كښې خبر دركوى! تاسو په هغى كه ډير فكر وكړى، حق او باطل، رښتيا او دروغ ئې ښه ځان ته ثابت كړى، وروسته له هغى څخه په حل د موضوعاتو باندى اقدام وكړى، لپاره د دى چې په احساساتو او تنگ نظرى سره مو كه كومه خرابي او ضرر رسولى وى، بيا ئې جبيره مشكله او پښيمانى ئې هم څه په درد نه خورى، چې په دى صورت كه به ظلم برقرار او عدالت به نړيدلى وى، او حال دا چې انسان بايد عدالت برقرار كړى، او د ظلم ريښى له بيخ څخه وباسى.

وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ فِيكُمْ رَسُولَ ٱللَّهِ ۚ لَوْ يُطِيعُكُمْ فِى كَثِيرٍ مِّنَ ٱلْأَمْرِ لَعَنِتُّمْ

او پوه شى تاسى چې بيشكه په منځ ستاسى كښې رسول د الله دى (نو مه وائى دروغ)، كه چيرى پيروى وكړى حضرت رسول الله تاسى لره په ډيرو

امورو کښې چې هغه خلاف د واقعيت او حقيقت وي! نو هر وخت به تاسي په مشقت او ګناه کښې لويدی.

**تفسير:** که رسول الله ستاسي د کوم سړي پر رای او غوښتنې باندې عمل ونه کړي نو تاسي مه خپه کيږئ ځکه چې حق د خلقو د غوښتنو يا د يوه او د بل د رای نه تابع کيږي که داسي وشي نو د ځمکې او د آسمانونو ګردی(تولي) کارخانې سره خرابيږي لکه چې د جزء ١٨ (المؤمنون) په (٤) رکوع ٧١ آيت کښې مونږ داسي يو آيت لولو ﴿وَلَوِ اتَّبَعَ الْحَقُّ أَهْوَاءَهُمْ لَفَسَدَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْأَرْضُ﴾ لنډه ئې دا چې تل د خبرو تحقيق وکړئ او هيڅ کله حق او رښتيا د خپلو شخصي اغراضو او افکارو تابع مه ګرځوئ بلکه تل خپل فکرونه د حق تابع وبولئ چې له دې څخه به د ګردو(تولو) جګړو او مناقشو بنسټ (بنياد) له بيخه ختلی وي. نو که ستاسي مشوره ونه منله شي مه خپه کيږئ! ځکه چې رسول الله د الله تعالیٰ پر احکامو عمل کوي چې په هغه کښې ستاسي تولي ښيګڼې (فايدې) دي او که ستاسي خبرو ته غوږ وباسي نو تاسي هر يو د خپلو ښيګڼو (فايدو) په نسبت خبرې کوئ. نو ده ته بيا داسي مشکلات پيښيږي چې د کوم يوه سړي پر فکر باندې عمل وکړي، سره له دې چې حضرت رسول الله په ډيرو ځايونو کښې له پيروی د افکارو باطلو د دوی نه منع شوی لکه چې په سورت البقرة رکوع (١٧) آيت (١٤٥) کښې دي ﴿وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُمْ مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ إِنَّكَ إِذًا لَمِنَ الظّٰلِمِينَ﴾

وَلٰكِنَّ اللّٰهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ الْإِيْمَانَ وَزَيَّنَهُ فِيْ قُلُوْبِكُمْ وَكَرَّهَ إِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوْقَ وَالْعِصْيَانَ ۚ أُولٰٓئِكَ هُمُ الرّٰشِدُوْنَ ۙ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَنِعْمَةً ۚ

ليکن الله تعالیٰ جل جلاله دوست او محبوب ګرځولی دی تاسي ته ايمان او ښائسته کړی ئې دی دغه (ايمان) په زړونو ستاسي کښې، بد او منفور ئې ګرځولی دی تاسو لره کفر (پټول د حق)، فسق او نافرمانی له اوامرو د الله تعالیٰ نه. (هغه تحقيق کوونکي په خبرونو کښې) هم دوی دي ثابت په دين حق باندې. له جهته د فضله له طرفه د الله نه او د نعمت د ده له طرفه

**تفسير:** که تاسي دا غواړئ چې محمد عليه الصلوٰة والسلام ستاسي هره خبره ومنې نو خورا(ډير) زيات مشکلات به پيښيږي خو د الله تعالیٰ شکر وکړئ چې هغه د خپل فضل او احسان په واسطه د قانتينو مؤمنانو په زړونو کښې ايمان محبوب ګرځولی دی او د کفر او معصيت نفرت ئې پکښې اچولی دی چې د هسې بې‌هودګيو په شاؤ خوا کښې نه نږدې کيږي په هغې مجتمع کښې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم تشريف ولري په هغې کښې د بل چا د رايو او فکرونو منل

چې پرته (علاوه) له منلو د هغه څخه وي نښې کيدی او نه ښائي چې وشي نن اګر که رسول الله صلی الله عليه وسلم زمونږ په منځ کښې تشريف نه لري مګر د هغوی پاک شريعت او د هغو وارثان او نائبان شته او تل به وي.

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿٨﴾

او الله تعالیٰ ښه عالم ښه حکمت والا دی.

**تفسير:** الله تعالیٰ ته د ګردو(ټولو) استعداد ښه معلوم دی او هر يوه ته پخپل حکمت سره هغه احوال او مقامات فرمائی چې د هغه استعداد د ده په ځان کښې وي.

وَاِنْ طَآئِفَتٰنِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوْا فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا ۚ فَاِنْۢ بَغَتْ اِحْدٰىهُمَا عَلَى الْاُخْرٰى فَقَاتِلُوا الَّتِيْ تَبْغِيْ حَتّٰى تَفِيْٓءَ اِلٰٓى اَمْرِ اللّٰهِ ۚ فَاِنْ فَآءَتْ فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَاَقْسِطُوْا ۗ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ﴿٩﴾

که چيری دوه ډلی د مؤمنانو (پخپلو منځونو کښې) سره په جنګ او جګړه کښې ولويږی پس روغه او صلح وکړی (ای نورو مؤمنانو) په منځ د هغو دواړو جنګ کوونکيو کښې په نصيحت سره او په بلنی سره حکم د الله او د رسول الله ته نو که ظلم او تيری وکړ يوی له دغو دواړو په هغی بلی ډلی باندی يعنی چې صلح قبوله نه کړی او حکم د الله او رسول الله ته راضی نشی پس جنګ کوی تاسو ټول ای مؤمنانو له هغی (ډلی) سره چې ظلم او تجاوز کوی (پر هغی بلی مظلومی ډلی باندی) تر هغه پوری چې بيرته راوګرځی دوی حکم د الله تعالیٰ ته او غاړه ورته کيږدی او که چيری وګرځيدله (دغه ډله بی انصافه له ظلم نه او د الله تعالیٰ حکم ئی بيرته ومانه) پس صلح او روغه وکړی تاسی په منځ د دوی کښې په عدل او انصاف سره او مه کوئ ملګرتيا له ظالمی ډلی سره په نامه د ننګ غيرت او داسی نورو سره بلکه تل د شرع تابعان اوسی، عدل او انصاف کوی تاسی ای مؤمنانو په هر کار کښې ځکه چې بيشکه الله تعالیٰ دوست لری عدل او انصاف کوونکی (په قول او په فعل کښې)

**تفسیر:** سره له دی ګردو(تولو) مخ نیونو که د مسلمانانو د دوو ګوندو (ډلو) په منځ کښی جنګ او جګړه پیښه شی نو تاسی زیات کوشش وکړی چی هغه جګړه لری شی که په هغه بری ونه مومی او یوه ډله په بلی ډلی باندی برید او تعرض وکړی او ظلم او زیادت ته ملاوی وتړی نو تاسی د هغوی سیل او ننداره مه کوی بی پلوی او بیطرفی مه غوره کوی. بلکه تیری او تجاوز له هری خوا چی وی ګرد(تول) مسلمانان دی په هغی کښی سره یو شی او له هغی سره دی جنګ وکړی تر څو هغه ډله مجبوره شی او د خپلو تیریو او زیادت څخه لاس واخلی او د الله د امر او حکم په لوری راشی او روغی ته ځان ورورواندی کړی. نو مسلمانانو لره ښائی چی د دواړو ډلو په منځ کښی په عدل او انصاف سره روغه وکړی. او یوه له بلی سره یو ځای کړی او د دواړو ډلو په مابین کښی په طرفداری کښی د حق د لیاری نه دی خوا او هغه خوا چپ (غلط) نه شی ځکه چی په طرفداری د ظالم باندی سړی له ایمان وځی لکه چی په حدیث کښی دی **(من مشی مع ظالم لیقویه ویعلم انه ظالم فقد خرج من الاسلام)** مشکوٰة باب الظلم!

**تنبیه:** د صحیحینو له روایت سره سم د دی آیت نزول د انصارو د هغو دوو ډلو په نسبت شوی دی چی د (اوس) او (خزرج) په نامه سره مشهوری دی او دوی پخپلو منځونو کښی ډیری جګړی سره کولی. رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د دی آیت په اساس د هغوی دواړو په منځ کښی سره روغه وفرمایله لکه چی په جزء ٤ سورت اٰل‌عمران رکوع (١١) آیت (١٠٣) کښی دی ﴿وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا﴾ الآیة ـ او د دی آیت نه دا هم استنباط کیږی! هغه خلق چی د اسلامی تولواک(باچا) او خلیفه په مقابل کښی بغاوت وکړی هغه هم د دی آیت تر عموم لاندی راځی لکه چی له پخوا راهیسی پخوانیو علماؤ د باغیانو په مسئله کښی په دی آیت استدلال کاوه او لکه چی د ده د شان نزول څخه ښکاری، دا حکم د مسلمانانو د ګردو(تولو) کورنیو او ملکی جګړو او اولسی پیښو او ګردو(تولو) مناقشاتو او مشاجراتو لره هم شامل دی نور د دی باغیانو په نسبت شرعی مسائل او لازمه تفصیلات دی په فقهی کتابو کښی وکتل شی!

---

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿١٠﴾

---

بیشکه چی مؤمنان تول په دین کښی سره وروڼه دی نو پس صلح او جوړښت کوی تاسی (ای مؤمنانو) په منځ د وروڼو خپلو کښی (تل ترتله) او ویریږی له الله تعالیٰ څخه (په هر څیز او په هر وقت کښی) او ځان ساتی (له معاصیوو) ښائی چی درباندی رحمت وکړ شی (له جانبه د الله)

---

**تفسیر:** د روغی او د جګړی په وقت کښی بلکه په هر حالت کښی ښائی دا تر سترګو لاندی وی چی د دوو ورونو روغه یا جګړه دی د دښمنانو او کافرانو په څیر ونه بلله شی! کله چی دوه

ورونه سره ولګيږي نو هغوی هم هغسې مه پرېږدی بلکه په ذات البيني اصلاح کښې ئې ډير زيات کوشش وکړی او د دې کوشش کولو په وخت کښې تل له الله تعالیٰ څخه ووېرېږي! چې له کومې خوا بې ځايه طرفداري ونه شي، يا د انتقامي جذبې کومه نښه په منځ کښې ونه ليدله شي.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّن قَوْمٍ عَسَىٰٓ أَن يَكُونُوا۟ خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلَا نِسَآءٌ مِّن نِّسَآءٍ عَسَىٰٓ أَن يَكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ ۖ وَلَا تَلْمِزُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا۟ بِٱلْأَلْقَٰبِ ۖ

---

ای هغو کسانو چې ايمان ئې راوړی دی (يعنې ای مؤمنانو) توکې او سپکاوی دې نه کوی هيڅ يو قوم له تاسې څخه په بل قوم باندې ځکه ښائي چې وی به دغه (مسخره کړی شوی) بهتره او غوره (په نزد د الله) له دې (مسخره کوونکيو) څخه او (نه دې توکې او سپکاوی کوی) يو تولی ښځې له تاسې په نورو ښځو ځکه ښائی چې هغه (مسخرې کړی شوی) به بهترې او غوره وی (په نزد د الله له دې مسخره کوونکيو څخه) او مه عيب جوئی کوی بعضې د تاسو د بعضې نورو، ځکه چې بيا د تاسو عيب جوئی هم کيږی (چې دا په حقيقت کښې د ځان عيب جوئی ده.) او مه غواړی تاسې يو تر بله په بد نومونو او القابو سره

---

**تفسير:** ړومبی ئې د مسلمانانو د نزاع او جګړې د لرې کولو تدبيرونه راوښوول بيا ئې دا راوښوده که اتفاقاً اختلاف پيښ شي نو په زور او مؤثرې طريقې سره دې هغه ورک کړ شي خو تر کله پورې چې د نزاع خاتمه ونه شي ښائی کوشش وکړ شي چې لږ تر لږه د منافرت او مخالفت جذبې زياتې او مشتعلې نه شي ډير کله ليده کيږی چيرې چې د کومو دوو سړيو يا ډلو په منځ کښې جګړه او اختلاف پيښيږی نو يو په بل باندې مسخرې کوی او ملندې پرې وهي که لږه کومه خبره پيښه شي لاس سره اچوی، توکې پرې کوی خاندی او حال دا دی چې ده ته نه ده ښکاره، هغه سړی چې دی په هغه پورې خاندی او مسخرې پرې کوی د الله تعالیٰ په دربار کښې څه مرتبه لری؟ او چې الله جل جلاله له دې دواړو څخه له کوم يوه څخه خوښ دی؟ بلکه ډير کله داسې هم پيښيږی چې يو سړی پخپله پخوا له جګړې او اختلاف يو بل سړی ښه ګڼی. خو د ضد او نفسانيت له سترګو ده ته خپل ډير لوی نقص هيڅ نه ښکاری او د بل چا ډير کم نقص ډير لوی ورته ښکاری نو ځکه د نفرت او عداوت خليج ورځ په ورځ پسې ارتيږی او وسعت مومی. او په زړونو کښې دومره بعد او لريتوب پيدا کيږی چې د روغې او اختلاف هيڅ اميد نه

پاتې کيږي په دې آيت کښې الله تعالىٰ مونږ له دې راز(قسم) خبرو څخه منع کوي او داسې حکم فرمائي چې يوه ډله دې له بلې ډلې سره مسخرې او توکې نه کوي او نه دې يو په بل باندې ناوړه (غلط) غړونه کوي! او نه دې يو په بل پسې د عيب لټولو دپاره لويږي او نه دې په بدو نومونو او ناوليو لقبونو سره يو بل ياد کړي ولې چې له داسې خبرې څخه دښمنۍ او نفرت ورځ په ورځ زياتيږي او د فتنې او د فساد اور لا تيزيږي. سبحان الله! دا څومره قيمتدارې ليار ښوونې او هدايات دي! که نن مسلمانان لږ څه ځير شي د دوی د ګردو(ټولو) جګړو او جنګونو او د نورو اخلاقي رنځوريو د علاج نسخې به هم دې د (حجرات) په سورت کښې شته. په حديث کښې وائي **(ان الله اوحى الى ان تواضعوا حتى لا يفخر احد على احد ولا يبغي احد على احد)** مشکوٰة باب المفاخرة والعصبية.

بِئۡسَ الِاسۡمُ الۡفُسُوۡقُ بَعۡدَ الۡاِيۡمَانِ ۚ

بد دی دا درې نومونه د (سخريې، تلمز، تنابز) له جهته د فاسقۍ وروسته له ايمان درلودلو(لرلو) څخه

**تفسير:** د بل سړي د خراب نوم په اخيستلو سره په خپله هغه نوم اخيستونکي ګنهګاريږي که پر هغه باندې هغه بد اثر وکړي که نې ونه کړي خو دې پخپله ځان بد تهذيب، فاسق، ګنهګار او خلق ربړوونکی ښکاروي. خيال وکړئ چې د مؤمن له ښکلي لقب سره دا بل توری ښه ښکاری؟ او بل تفسير ئې داسې کيدی شي کله چې يو څوک مسلمان شي نو بيا هغه ته په هغو پخوانيو خبرو باندې طعنه ورکول يا د هغه وخت په بدترينو القابو يادول لکه پرنګي، يهود هندو او داسې نور ډير مذموم حرکت دی هم داسې هغه سړی چې په کوم عيب کښې اخته وي چې هغه ئې په واک(اختيار) کښې نه وي يا ئې له کومې ګناه څخه فرض ئې کړی توبه کړې وي له هغه څخه د ژغورنې (بچ کيدنې) دپاره د هغه يادول ښه نه دی.

وَمَنۡ لَّمۡ يَتُبۡ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوۡنَ ⑪

او هغه چې توبه ئې ونه ايستله نو دغه کسان هم دوی دی ظالمان (پر ځانونو خپلو)

**تفسير:** هغه ګناه چې پخوا شوې له هغې څخه توبه وکړئ! که د دې هداياتو او حکمونو د اوريدلو څخه وروسته دوی له هغو جرائمو څخه توبه نه کوي نو د الله په نزد به اصلي ظلم هم دا وي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا ٱجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِّنَ ٱلظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ ٱلظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا

ای هغو کسانو چی ایمان ئی راوړی دی (ای مؤمنانو) ځان وساتی تاسی ډیر له بدګمانیو او تهمتونو نه (په خلقو باندی) بیشکه ځینی بدګمانونه او تهمتونه ګناه ده او مه لټوی تاسی پټ عیبونه د مسلمانانو او نه دی کوی غیبت ځینی ستاسی د ځینو نورو

**تفسیر:** د دوو تنو د اختلاف او تفریق په ډیروالی کښی دا امور په خصوصیت سره داخل دی. یو فریق په بل فریق باندی داسی بدګمان کوی چی حسن ظن لره چی په حدیث کښی راغلی هیڅ ځای نه پاتی کیږی له هری یوی خبری څخه څه نا څه مخالفت کوی که د هغه په خبرو کښی د ښه والی له زرو احتمالو څخه د یوی خرابی احتمال متصور وی نو د هغه فکر او چرت(خیال) د هم هغی خرابی په لوری وردرومی او له هغو تولو ښیګڼو (خوبو) څخه ئی سترګی پټوی او د هم هغی کوچنی (وړی) خرابی په شاؤ خوا کښی چورلی او هم هغه خراب او کمزوری خوا ته یوه قطعی او یقینی بڼه او شکل ورښښی او پخپل مقابل فریق باندی د تهمت په الزام شروع کوی که اتفاقاً کومه مخالفه خبره ورته ورسیږی دی د خپلی بدګمانی په سبب هغی ته لا غلطه معنی ورکوی تل د هم دی خبری په پلټنه(تحقیق) کښی وی چی د مقابلی خوا کومه پټه خبره څرګنده(ښکاره) کړی او بیا د هغی په شاؤ خوا کښی نوری خبری جوړی او عجیبی حاشیی ورکړی. او د ده په نشتوالی کښی د هغه په خلاف هر راز(قسم) خبری اتری وکړی. نو پاک قرآن له دی ګردو(تولو) ویناؤ او خرافاتو څخه منع کوی. که مونږ مسلمانان د پاک قرآن په احکامو باندی عمل وکړو نو هغه ګرد(تول) اختلافات چی له بدقسمتی راپیښیږی له خپله حده نه تیریږی او د هغو ضررونه به محدود پاتی کیږی بلکه په لږ مدت کښی به د هغه نوم او نښه هم ورکیږی. الزام لګول او د پټو خبرو لټول او د هر چا په شا خبری کول هیڅا ته او هیڅ کله روا نه دی په حدیث کښی وائی **(الغیبة اشد من الزنا)** «الحدیث» پرته(علاوه) له هغو مواردو څخه چی په هغو کښی څه دینی ګټه(فائده) وی او نفسانیت پکښی دخل ونه لری نو هلته اجازه شته لکه چی د حدیثو د رجالو په نسبت دائمی جرح او تعدیل کیده ځکه چی پرته(علاوه) له هغه د دین محفوظ پاتی کیدل محال ؤ او یا د فاسق غیبت کول او داسی نور د مشروعه ضرورتونو لپاره.

أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ

آيا خوښوي يو له تاسي څخه دا چې وخوري غوښې د ورور خپل حال دا چې مړى وي پس بد ګڼئ تاسي هغه نو هم دا رنګه بد وګڼئ د مسلمان ورور غيبت او عيب لټول

**تفسير:** د خپل مسلمان ورور غيبت کول داسې ګنده کار دى لکه چې څوک د خپل هسې مړه ورور غوښه چې سخا شوي هم وي پخپلو نوکانو سره شکوي او خوري ئې نو آيا د ده دا چارې کوم انسان خوښوي نو وپوهيږئ چې غيبت کول له دې نه هم يو شنيع او خراب کار دى تولې کينې او دښمنې او حتى داسې نور ډير بد عواقب تول له غيبت نه پيدا کيږي.

وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۚ إِنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢﴾

ووېرېږئ تاسي له الله تعالىٰ څخه بيشکه الله ښه توبه قبلوونکى ډير رحم والا دى

**تفسير:** په دې نصيحتونو باندې هم هغه څوک عمل کوي چې په زړه کښې ئې د الله تعالىٰ ويره وي که د الله تعالىٰ ويره نه وي نو هيڅ نه کيږي. ښائي چې د اسلام او د ايمان دعوى کوونکي په رښتيا سره د هغه قهار الله له غضبه ووېرېږي او د داسې ناوړو (غلطو) پيښو شاؤ خوا ته هيڅ ورنږدې نشي که پخوا د دې حکم له لوستلو څخه کومه غلطي يا تيروانه له هغوى څخه شوي وي نو اوس ښائي د پاک الله په مخکښې د زړه له کومي توبه وکړي او د هغه له مهربانۍ او لورينې څخه خپله ښېښه او مغفرت وغواړي چې مغفرت ئې کړي.

يٰٓأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنٰكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثٰى وَجَعَلْنٰكُمْ شُعُوبًا وَقَبَآئِلَ
لِتَعَارَفُوٓا۟ ۚ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللّٰهِ أَتْقٰىكُمْ

اى خلقو بيشکه مونږ پيدا کړي ئې تاسي (تول اصلاً) له يوه سړي چې (آدم) او له يوې ښځې چې (حوا) ده او ګرځولي ئې مونږ تاسي څانګې او قبيلې قبيلې دپاره د دې چې وپيژنئ يو له بل سره بيشکه چې ډير مکرم او معزز له تاسي څخه په نزد د الله ډير متقي ادب لرونکى ستاسي دى.

**تفسير:** زياتره د غيبت، طعن، ذم، او عيب لټولو منشاء کبر او غرور دى چې آدمي خپل ځان لوى ګڼي او نورو ته په حقارت او سپکه ګوري نو ځکه الله تعالىٰ دلته دا راښيي چې انسان لره نه ښائي چې پخپل اصل او نسب او لوئي او عزت باندې مغرور شي بلکه ودې پوهيږي، چې د

انسان اصلي لوئي او عزت په دې کښې دې چې ښه روش او ښه خصلتونه ولري او تل له الله وويريږي مؤدب او پرهيزګار وي تر څو د دې ښو صفاتو په ميچ او اندازه د الله تعالیٰ په دربار کښې معزز، مکرم، او محترم شي. د نسب حقيقت خو دا دې چې ګرد(تول) نارينه او سرې له آدم او حوا عليهما السلام څخه پيدا دي سيدي، عثماني، فاروقي، صديقي، انصاري، شيخي، خاني، ځويتوب او نوري ستايني (صفتونه) د ښه علم، عمل او تقویٰ په مقابل کښې هيڅ دي. او دا خاندانونه، صفتونه، او ستايني پرته له دې څخه چې خلق پرې پيژندل کيږي او په تعارف کښې کار ورکوي بل کوم قدر او قيمت نه لري. اصلي قدر او قيمت د هر سړي په دې کښې دی چې متقي پرهيزګار او پوه وي. بلاشبهه هر څوک چې الله تعالیٰ په کومه شريفه، لويه، معززه او ښه کورنی کښې پيدا کړي وي هغه خو يو موهوب شرف دی. لکه چې ځيني کسان ئې ښکلي (خوبصورت) جوړ کړي دي. خو يوائې هم هغه ښکليتوب د ناز او د فخر وړ(لائق) نه دی. او نه د کمال او د فضيلت معيار ګانه شي. او نه د هغه لامله (له وجې) نورو ته په سپکه سترګه کتي شي. هو! شکر دې وکړي چې الله تعالیٰ بلا اختيار او کسب مونږ ته دا نعمت رامرحمت کړی دی. دا هم په شکر کښې داخل دی چې د غرور او تفاخر څخه ځان وژغوري(وساتي). او هغه نعمت دې په هسې رتليو روشونو، بدو اخلاقو او خرابو خصلتونو سره خراب نه کړي. لنده ئې دا چې د مجد او شرف او عزت او فضيلت اصلي معيار نسب نه بلکه تقویٰ او طهارت دی او متقي سړي نورو ته هيڅ کله په سپکه سترګه نه ګوري.

إِنَّ اللّٰهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ ﴿١٣﴾

بيشکه چې الله تعالیٰ ښه عالم ډير خبردار دی.

**تفسير:** تقویٰ او ادب په اصل کښې د زړه کار دی الله تعالیٰ ته دغه ښه معلوم دي هر هغه سړی به چې په ښکاره ډول(طريقه) سره متقي او مؤدب په نظر راځي هغه په واقع کښې څنګه دی او وروسته له دې څخه به څرنګه شي؟ العبرة للخواتيم.

قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا قُلْ لَمْ تُؤْمِنُوا وَلَٰكِنْ قُولُوا أَسْلَمْنَا وَلَمَّا يَدْخُلِ الْإِيمَانُ فِي قُلُوبِكُمْ

وويل صحرائيانو ايمان راوړی دی مونږ، ووايه (ای محمده ! دوی ته) له سره ايمان نه دی راوړی تاسي وليکن ووائي اسلام راوړی دی مونږ او له سره نه دی ننوتی ايمان په زړونو ستاسي کښې

**تفسیر:** دلته دا راښیي چې ایمان او یقین کله چې په پوره ډول(طریقه) په زړه کښې راښخ شي او بیخ ونیسي نو په هغه وخت کښې غیبت، عیب لټول او نور خراب خصلتونه له سرې ځنې لرې کیږي هر هغه سړی چې د نورو عیبونه لټوي او آزار ورسوي نو دی دی وپوهیږي چې تراوسه پورې ایمان په پوره ډول(طریقه) په زړه د ده کښې ځای نه دی نیولی د ابن کثیر رحمة الله علیه په اتم جلد (٢٤) مخ کښې یو حدیث لیکلی شوی دی **«یا معشر من آمن بلسانه ولم یُفض الایمان الی قلبه لا تغتابوا المسلمین ولا تتبعوا عوراتهم»**

**تنبیه:** له دې آیت څخه د ایمان او د اسلام فرق ښکاریږي او هم دا خبره له حدیث د جبریل او نورو څخه هم ثابتیږي په حدیث مرویه د ابی هریرة کښې چې په کتاب الایمان د مشکواة کښې راغلی فرق د ایمان او د اسلام داسې فرمائي:

**«المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده، والمؤمن من امنه الناس علیٰ دمائهم واموالهم»** (ترمذی)». له اکثرې نصوص څخه داسې معلومیږي چې هغه څوک چې په اسلام راوړلو سره دا نظر هم ولرې چې له شکنجې د مسلمانانو څخه مامون پاتې شي او یا داسې نور اغراض چې کفر ته اړونکي نه وي! غور کړې داسې شخص مسلمان بلل کیږي چې هنوز نور د ایمان د ده په زړه کښې نه دی کامل شوی، نو هم دا وجه ده چې له غیبت کولو او عیب لټولو څخه ځان نشي ساتلی. او هغه څوک چې بلا قید او شرط او پخپل ذوق سره په اسلام کښې داخلیږي، دا هغه اشخاص دي چې نور د ایمان د دوی په زړونو کښې کامل شوی نو خولې او تول حواس ئې نه غواړي چې په غیبت او یا نورو باطلو باندې وخوځیږي.

---

وَإِن تُطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ لَا يَلِتْكُم مِّنْ أَعْمَالِكُمْ شَيْـًٔا ۚ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٤﴾

---

او که حکم ومنی تاسې د الله او د رسول د دغه (الله په اخلاص سره) نو نه پرې کوي نه کموي (الله) له (جزاء د) عملونو ستاسې څخه هیڅ شی، بیشکه چې الله ښه مغفرت کوونکی ډیر رحم والا دی.

---

**تفسیر:** که اوس هم د الله تعالیٰ د اوامرو د منلو لپاره غوره کړې نو د ړومبنیو کمزوریو لامله (له وجې) ستاسې له هیڅ یو عمل څخه د هغه ثواب نه کموي.

---

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ

وَ اَنْفُسِهِمْ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ ﴿۱۵﴾

بیشکه چی (صادقان) مؤمنان هغه کسان دی چی ایمان راوړی دی په الله او په رسول د دغه (الله) باندی بیا شک نه کوی (په ایمان کښی) او جهاد کوی دوی په مالونو خپلو سره (چی لګوی ئی په اعلا د کلمة الله کښی) او په ځانونو خپلو سره چی جهاد کوی په لیاره د الله کښی دا کسان هم دوی رښتینی دی (په دعویٰ د ایمان کښی)

**تفسیر:** د رښتینی مؤمن شان داسی وی چی په الله تعالیٰ او د هغه په رسول باندی پوره او پوخ اعتقاد ولری او د هغه په لیاره کښی په هر قسم سره چی وی په مال او ځان سره حاضر وی.

قُلْ اَتُعَلِّمُوْنَ اللّٰهَ بِدِیْنِكُمْ ؕ وَ اللّٰهُ یَعْلَمُ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِی الْاَرْضِ ؕ وَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمٌ ﴿۱٦﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته ) آیا خبروی پوهوی تاسی الله په دین د تاسی سره حال دا چی الله ته معلوم دی هر هغه څیزونه چی په آسمانونو کښی دی او هر هغه څیزونه چی په ځمکه کښی دی او الله تعالیٰ پر هر څیز باندی ښه خبردار دی هیڅ شی تری پټ نه دی.

**تفسیر:** که په رښتیا سره واقعی دین او پوره یقین تاسی لره حاصل وی نو له تش ویلو څخه څه په لاس درځی؟ له هغه پاک الله سره چی ستاسو معامله ده هغه دیر ښه پری پوهیږی هر شی ورته دیر ښه ښکاره او معلوم دی.

یَمُنُّوْنَ عَلَیْكَ اَنْ اَسْلَمُوْا ؕ

احسان باروی دوی په تا باندی (ای محمده !) د دی چی تش مسلمانان شوی دی دوی

**تفسیر:** ځینی کوچیان او صحرائیان راځی او وائی وګوری چی مونږ بی له جنګه او جګړی مسلمانان شوی یو ګواکی دوی خپل احسان ښکاره وی او د دی جواب وروسته له دی نه داسی

ورکاوه کیږی.

قُل لَّا تَمُنُّوا عَلَيَّ إِسْلَامَكُم ۖ بَلِ اللَّهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ أَنْ هَدَاكُمْ لِلْإِيمَانِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿١٧﴾

ووایه (ای محمده! دوی ته) احسان مه باروی تاسی په ما باندی د اسلام راوړلو د تاسی بلکه الله احسان کوی په تاسی باندی د دی چی لیاره ئی وښووله تاسی ته د ایمان راوړلو که ئی تاسی رښتینی او صادقان (په دعوی د ایمان کښی).

**تفسیر:** که په واقعی دول(طریقه) تاسی د اسلام دعوی لری او په رښتیا سره ایمانداران ئی! نو دا ستاسی احسان نه دی بلکه د الله احسان دی چی تاسی ته ئی د ایمان په لوری لیاره دروښوده او د اسلام په لوی دولت ئی سرفرازی درکړه. که رښتیا ووایو نو اصلی خبره هم دا ده. ځکه چی الله تعالیٰ پخپله رسول الله ته داسی فرمائی ﴿ فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ لِنتَ لَهُمْ ﴾ الآیة ـ «آل عمران» نو بنا په دی که د چا له لاسه ښیګنی (ښه) کیږی دا د هغه ستاینه (صفت) نه ده بلکه د الله ستاینه (صفت) ده چی هغه ته ئی د نیکی لیاره ورښوولی ده ګواکی د دی سورت په پای(آخر) کښی ئی تنبیه فرمایلی ده که تاسی ته پر قرآنی هدایاتو او اسلامی تعلیماتو باندی د عمل کولو توفیق په لاس درځی نو هغه د احسان په دول(طریقه) مه ورښکاروی بلکه د الله تعالیٰ اکرم شانه واعظم برهانه د شکر او انعام حق اداء کړی چی تاسی ته ئی داسی توفیق درکړی دی.

إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ غَيْبَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٨﴾ ع

بیشکه الله ته ښه معلوم دی غیب د آسمانونو او د ځمکی او الله تعالیٰ ښه لیدونکی دی په هغو کارونو باندی چی کوی ئی تاسی

**تفسیر:** الله تعالیٰ ته د زړونو پټی خبری او ښکاره چاری ګردی(تولی) ورمعلومی دی نو د دغه علیم او خبیر په مخکښی خبری او بهانی مه جوړوی.

**تمت سورة الحجرات**

سورة (قٓ) مکیة (الا آیة ) (۳۸) فمدنیة وهي خمس و اربعون آیة و ثلٰث رکوعات
د «قٓ» سورت مکي دی پرته له (۳۸) آیته څخه چي مدني دی (٤٥) آیتونه (۳) رکوع لري

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډير زيات مهربان پوره رحم لرونکی دی

قٓ ۚ وَالْقُرْاٰنِ الْمَجِيْدِ ﴿١﴾ بَلْ عَجِبُوْٓا اَنْ جَآءَهُمْ مُّنْذِرٌ مِّنْهُمْ فَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ
هٰذَا شَيْءٌ عَجِيْبٌ ﴿٢﴾ ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا ۚ ذٰلِكَ رَجْعٌۢ بَعِيْدٌ ﴿٣﴾

قسم دی پر قرآن چي لوی شان لري (او نه دی راوړی ایمان کفارو په تا ای محمده) بلکه تعجب کوی دوی له دی نه چي راغي دوی ته ويروونکی له دوی څخه نو وويل کافرانو دا (ويرول) يو شي عجيب دی آيا کله چي مړه شو مونږ او شو مونږ خاوری (بيا به هم ژوندی کيږو؟) دغه بيرته راتلل ډير لري دی (له عقله)

**تفسير:** د قرآن د لوئي او شان په نسبت څه وويل شي چي د هغه له راتګ څخه ګرد(ټول) کتابونه منسوخ شول او د ده د اعجازي قوت او لامحدودو اسرارو او معارفو څخه د دنيا ګرد(ټول) پوهان محو او حيران دی هم دا لوی قرآن پخپله شاهد دی چي په ده کښي هيڅ يو نقص نشته او د عيب او ګوتي نيولو ځای پکښي نه ليده کيږي. خو بيا هم منکران دا نه مني نه د دی دپاره چي د هغوی په لاس کښي د ده په خلاف کوم حجت يا برهان شته بلکه يواځي د خپلي ناپوهي او جهل او حماقت لامله (له وجي) په دی خبري باندی تعجب کوی چي د دوی له تبر او خيلخاني څخه يو سړی د دوی په لوری رسول او استاځی راغلی دی، ټولو ته نصيحت کوی او داسي عجيبي خبري هم کوی چي څوک ئي نه شي منلی. نه دا د منلو وړ(لائق) خبره ده چي مونږ به وروسته له مريني څخه ژوندی کيږو؟ دا بيرته راتګ له عقل څخه ډير لري او له امکان او عادت څخه بيخي بعيد دی (معاذالله) خو خبره دا ده چي دوی عقل او پوهه نه لري او که وګوري چي په اول کښي چا پيدا کړل آيا د دوی فکر او عقل په اول کښي پخپلو حواسو او اعضاو باندی خبر و چي څنګه جوړيږي دوی يا د دوی پلرونو کولی شوی چي په حواسو او اعضاو کښي څه تغيير او ښايست راولي؟ طبعاً نه. نو ثابته شوه چي دا کار د الله تعالیٰ په قدرت سره وشو نو هغه ذات چي په اول کښي دا کار کولی شي، په آخر کښي څه مشکله ده هيڅ مشکل نه لري بالضرور ئي کولی شي. لکه چي وائي ﴿ وَهُوَ الَّذِيْ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ

وَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِ وَلَهُ الْمَثَلُ الْأَعْلَىٰ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴾ جزء ۲۱ «سورة الروم» ۲۷ آيت هغه ذات چې دا كار كولى شي نښې د قدرت ئې په وروسته آيتونو كښې په طور د مثال سره داسې بيانيږي.

قَدْ عَلِمْنَا مَا تَنْقُصُ الْأَرْضُ مِنْهُمْ ۖ

(الله فرمائي په رد د قول د دوی) په تحقيق سره معلوم دی مونږ ته هغه چې كموی ئې ځمكه له وجوده د دوی

**تفسير:** گرد(تول) وجود نه خاورې كيږي روح سلامت پاتې كيږي او د بدن اجزاء تحليل كيږي او په هر لورې تيت او پرک (منتشر) كيږي خو الله تعالىٰ ته هغه گرد(تول) ښكاره دی او كولى شي چې بيا هغه تيت پيت (منتشر) اجزاء سره راتول كړي او بيا ئې لكه اول ځلې جوړ او غوښه، پلې، رگونه او پوست پرې زرغون او سا پكښې واچوی.

وَعِنْدَنَا كِتَابٌ حَفِيظٌ ④

او مونږ سره يو كتاب دی په ياد ساتونكی د هر شي چه لوح محفوظ دی.

**تفسير:** دا نه ده چې له نن څخه راښكاره او معلوم دی بلكه قديمي علم مو دی تر دې چې له هغه څخه پخوانی قبل الوقوع گرد(تول) حالات هم په يو كتاب كښې چې لوح محفوظ نوميږي ليكلی شوی دی او تراوسه پورې هغه كتاب ځمونږ سره شته كه په علم قديم باندې څوک نه پوهيږي نو دومره دې وپوهيږي هغه دفتر چې هر شي پكښې ليكلی وی او تل د الله تعالىٰ په حضور كښې پروت وی. يا دا د ړومبنی جملې تاكيد وبوله ځكه هر هغه څيز چې د چا په علم كښې وی او بيا ئې وليكی نو هغه د نورو په نزد ډير ټينګ او مؤكد راځي هم داسې دلته د مخاطبينو د محسوساتو په اعتبار تنبيه شوې ده چې هر څيز د الله تعالىٰ په علم كښې شته او د هغه په دفتر كښې ليكلی دی چې هيڅ زيادت او نقصان نشي پكښې كيدی. نو فرمائي الله اكرم شانه واعظم برهانه بيا ژوندی كول د خلقو راباندې گران نه دی.

بَلْ كَذَّبُوا بِالْحَقِّ لَمَّا جَاءَهُمْ فَهُمْ فِي أَمْرٍ مَرِيجٍ ⑤

بلكه نسبت د دروغو كړی دی دوی حق او رښتيني دين ته كله چې راغی دوی ته پس دوی په گډو وډو مختلفو خبرو كښې (مضطرب) دی.

**تفسیر:** یوائې تعجب نه بلکه په ښکاره ډول(طریقه) ئې دروغ بولي او ځمونږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم نبوت، قرآن، بعث بعدالموت او نور اعتقادي شیان هم دروغ ګڼي او عجیبې ګډې وډې مختلفې خبرې او راز راز(قسم قسم) ویناوې کوي بیشکه هر هغه سړی چې رښتیا خبرې دروغ بولي په هم داسې شکوکو، اضطرابو، حیرانتیاؤ تردد او تحیر تذبذب سره غاړه په غاړه کیږي او د ناپوهۍ په غرومبې (ګرداب) کښې لوېږي ځکه چې له داسې یوه څرګند(ښکاره) امر نه انکار کوي چې ثبوت ئې له نمر نه هم روښانه دی خو که نصوص او دلائل ئې ولټول شي.

اَفَلَمۡ یَنۡظُرُوۡۤا اِلَی السَّمَآءِ فَوۡقَہُمۡ کَیۡفَ بَنَیۡنٰہَا وَ زَیَّنّٰہَا وَ مَا لَہَا مِنۡ فُرُوۡجٍ ﴿۶﴾

آیا پس نه ګوري دغه (منکران د بعث له غفلته) طرف د آسمان ته د پاسه د دوی چې څرنګه جوړ کړی دی مونږ هغه او ښائسته کړی دی مونږ هغه او نشته دغه آسمان ته کوم چاود (عیب)

**تفسیر:** لومړی نښه د قدرت، هغه ذات چې انسان پس له مرګه بیا ژوندی کوي نښې د قدرت دا دي.

الف: ـ پیدایښت د آسمانونو

ب:ـ لوړوالی د هغې چې په څه عجیب او غریب کیفیت سره جوړ شوی

ج:ـ زینت او ښایست د هغوی په ستوریو او یا طبیعي منظرې سره.

د:ـ د نقصان او عیب نه موجود والي لکه سوري، چاودیدل، زړوالي او داسې نور. آسمان ته وګورئ! چې په ښکاره ډول(طریقه) سره نه کومه ستنه پکښې په نظر راځي او نه کومه پایه لري او نه له کوم شي سره تړلی شوی دی داسې عظیم الشان جسم ئې څرنګه مضبوط او مستحکم درولی دی؟ د شپې له مخې د ستوریو په کروړونو قنادیل ډیوې پکښې بلیږي او د هغې منورې کړې له لرې لکه د بریښنا لوئې ونې رابریښي او په مجموعي ډول(طریقه) څومره په سنګار او رونق ډولې ښکاري له ګردو(تولو) څخه غوره خبره دا ده چې سره له تیریدلو د زرګونو قرنو څخه نه کوم سوری یا چاود پکښې لویدلی دی نه ئې کومه ګنګوره نړیدلې ده، نه ئې پلاستر مات دی، نه ئې رنګ الوتی دی آخر دا کوم یو لاس دی؟ چې داسې مخلوق ئې جوړ کړی دی؟ او بیا ئې له ډیرو پیړیو راهیسې هم داسې ساتلی دی؟

وَ الۡاَرۡضَ مَدَدۡنٰہَا وَ اَلۡقَیۡنَا فِیۡہَا رَوَاسِیَ وَ اَنۡۢبَتۡنَا فِیۡہَا مِنۡ کُلِّ زَوۡجٍۭ بَہِیۡجٍ ﴿۷﴾ تَبۡصِرَۃً وَّ ذِکۡرٰی لِکُلِّ عَبۡدٍ مُّنِیۡبٍ ﴿۸﴾

او (آیا نظر نه کوی دوی) ځمکی ته (چی څرنګه ښه) غوړولی مو ده او غورځولی مو دی په هغی کښی درانه بارونه محکم غرونه او زرغونه کړی مو دی په هغی (ځمکی) کښی له هر قسم تازه ګیاوی د رونق شیان دپاره د ښوونی (د قدرت خپل) او د پند او نصیحت هر هغه بنده ته چی رجوع کوونکی وی الله ته

**تفسیر:** دوهمه نښه د قدرت پیدایښت د مځکی دی

(الف): آوارول د هغی

(ب): اچول د غرونو او میخ کول د ځمکی په هغوی سره

(ج): زرغونه کول د هر قسم ګیاه او بوټو تازه وو په رونق سره

(د): هر یوه د دی نښو ښخه درس د عبرت ګرځی رښتینو بندګانو لره هغه سړی چی رجوع ئی د الله په لوری وی ځان د دی محسوساتو په دائره کښی بی ځایه نه اخته کوی هغه ته د آسمان او د ځمکی په تخلیق او تنظیم کښی دومره د کتنی او لیدنی سامان او اسباب شته چی د هغو له ادنیٰ غور کولو ښخه صحیح حقیقت ته رسیدی شی او هغه هیر شوی سبق ئی بیا وربه یادیږی. بیا خو الله تعالیٰ ته ښه معلوم دی چی سره له دومره قوی دلائلو او روښانو نښو له موجودیته دا خلق ولی د حق په دروغجنولو کښی جرائت او ځغردوالی (ضد) کوی؟

وَنَزَّلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً مُّبٰرَكًا فَاَنْۢبَتْنَا بِهٖ جَنّٰتٍ وَّحَبَّ الْحَصِيْدِ ﴿٩﴾

او نازلی ښکته کړی دی مونږ له (طرفه د) آسمانه اوبه ډیری برکتناکی نو زرغونه مو کړل په دغو (اوبو) سره باغونه (چی هر راز(قسم) میوی لری) او دانی کښت چی فصل ئی ریبلی کیږی.

**تفسیر:** دریمه نښه د قدرت راښکته کول د اوبو دی له آسمانونو نه

(الف): اوبه مبارکی او بابرکته چی هر شی په هغی سره ژوندی کیږی.

(ب): باغونه او دانی د کښتونو (فصلونو) چی په هغی سره زرغونه کیږی.

غله هغه ده چی له هغی سره بوټی ئی هم ریبل کیږی او د باغ ونی سره له دی چی میوی ئی شکولی کیږی ونی ئی پخپله پاتی کیږی.

وَالنَّخْلَ بٰسِقٰتٍ لَّهَا طَلْعٌ نَّضِيْدٌ ﴿١٠﴾

او (زرغونې مو کړلې په دغو اوبو سره ونې د) خرماؤ لوړې هغې لره وړې دي لانډې باندې.

**تفسیر:** (ج). زرغونول د خرما د ونو، لوړې لوړې(اوچتې) چې دوی لره وړې دي لانډې باندې چې روزي دي لپاره د بندګانو. په ډیر کثرت او، وفرت سره چې د هغو وړې په لیدلو کښې هم ډیر ښه ښکارې.

رِزْقًا لِّلْعِبَادِ ۙ وَأَحْيَيْنَا بِهِ بَلْدَةً مَّيْتًا ۚ كَذَٰلِكَ الْخُرُوجُ ⑪

رزق روزي دپاره د بندګانو او ژوندې کړل مونږ په دغو (اوبو) سره کلي او ښارونه مړه. هم داسې دی راوتل (د مړیو له قبرونو نه).

**تفسیر:** (د): الله تعالیٰ ژوندې کوي په دې اوبو د باران سره ښارونه او کلي مړه یعني چې بوټي او ګیا تولې وچې او خزان وی بیا ئې ژوندې کوو او زرغونې کوو ئې، نو نتیجه د دې دریو ښو سره له اجزاوو ئې دی ته شوه، چې تاسې انسانان هم داسې راوتونکي او ژوندې کوونکي ئې، لکه چې ګیاوې زرغونې کیدونکي او راوتونکي دي، نو که تاسو عقل لرئ په خپل ژوند کښې پس له مرګه هیڅ شک او شبه مه کوئ. لکه چې د باران په اورولو سره مړه ځمکه ژوندې کوي هم داسې د قیامت په ورځ مړي هم ژوندې کولې شي.

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَأَصْحَابُ الرَّسِّ وَثَمُودُ ⑫ وَعَادٌ وَفِرْعَوْنُ وَإِخْوَانُ لُوطٍ ⑬ وَأَصْحَابُ الْأَيْكَةِ وَقَوْمُ تُبَّعٍ ۚ

دروغجن کړي ؤ پخوا له دغو (کفارو) قوم د نوح (نوح لره) او ملګرې د کوهي (نبي خپل لره) او ثمودیانو (صالح لره) او عادیانو (هود لره) او فرعون (موسیٰ لره) او (نوعي) وروڼو د لوط (لوط لره) او خاوندانو د ځنګله (شعیب لره) او قوم د تبع (خپل نبي لره)

**تفسیر:** د دې قومونو قصې د حجر، فرقان او دخان او په نورو سورتونو کښې تیرې شوې دي هلته ئې بیا ولولئ!.

تبع: یا نوم د ځای دی یا نوم د هغه پیغمبر دی چې دا قوم ئې اسلام ته وغوښت.

كُلٌّ كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ وَعِيدِ ﴿١٤﴾

دوی ټولو نسبت د دروغو کړی و پیغمبرانو خپلو لره نو بیا حق او ثابت شو
ځما عذاب پر دوی

**تفسیر:** د انبیاو د دروغجنولو لامله(له وجې) له هغو شیانو څخه چې دوی ویرول شوی ؤ هغه ور د مخه راغلل. او په هم هغه عذابونو کښې چې دوی تری ویرول شوی وو، ولویدل.

أَفَعَيِينَا بِالْخَلْقِ الْأَوَّلِ ۚ بَلْ هُمْ فِي لَبْسٍ مِّنْ خَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿١٥﴾

آیا پس نو مونږ ستړی شوی وو په پیدایښت اول باندی یعنی نه یو ستړی شوی
بلکه دوی په شک کښې دی له جوړولو او ژوندی کولو نویو څخه.

**تفسیر:** د دوهم ځلی نوی ژوندون په نسبت هغوی ته خوشی او فضول یو شک پیدا شوی دی هغه قادر مطلق چې دوی ئی اول ځلی پیدا کړی دی آیا دوهم ځلی هغه ته د هغوی بیا پیدا کول کوم ګران کار دی؟ آیا دوی هسی ګمان کوی چې (معاذالله) هغه به په اول ځلی د دی ګردی(ټولی) دنیا له پیدا کولو څخه ستړی شوی وی؟ د هغه مطلق قادر په نسبت داسی توهمات غور کول ډیر سخت جهالت او سپین سترګیتوب دی.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهِ نَفْسُهُ ۖ

او په تحقیق پیدا کړی دی مونږ جنس د انسان، په داسی حال کښې چې
مونږ پوهیږو په هغه څیز چې وسوسه او خطره کوی په هغه سره زړه د ده له
فکرونو عبثو او ناکارو سره

**تفسیر:** د انسانانو د هر قول او فعل څخه مونږ خبردار یو تر دی چې له هغو پټو خبرو چې د وسوسی په ډول(طریقه) د هغو په زړه کښې تیریږی هغه هم مونږ ته معلوم دی ﴿أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ﴾ جزء ٢٩ (الملک ـ رکوع ـ١) آیت ١٤

وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ ﴿١٦﴾

حال دا چې مونږ ډیر نژدی یو ده ته په علم سره له رګونو د ورمیږ د ده

شخه.

**تفسير:** د ژوندانه له رګه مراد د اورمیږ (شارګ) دی چې د هغه لړځیدونکی رګ له پری کیدلو شخه سړی مری ښائی چې دا له روح او نفس شخه کنایه وی او مطلب ئی دا دی چې مونږ د علم په اعتبار د ده له روح او نفس شخه هم ډیر نژدی یو یعنی هسی چې سړی پخپل احوال باندی پوهیږی مونږ له هغه شخه زیات د هغه په حال او احوال باندی پوه او خبردار یو. لکه چې مونږ د الله تعالیٰ دا پوهه او خبرداری په تجربه سره ثابت ولی شو، مثلاً وینو چې یو متخصص طبیب په یوه مرض آخته کیږی او دی خبر نه دی چې شه وخت مریض کیږی او یا شه وخت جوړیږی، یو پوهان، نجومی، ولی، پیغمبر! د هغو مشکلاتو نه چې ورته پیښیږی هیڅ پیش بینی او چاره سازی نشی کولی او پخپله رسول الله وائی ﴿وَلَوْ كُنْتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ﴾ جزء ٩ «اعراف - ٢٣ ع ١٨٨ آیت» نو دا ثابته شوه چې الله تعالیٰ جل جلاله له مونږ نه مونږ ته نژدی دی، او له مونږ نه په مونږ عالم دی، له مونږ نه په مونږ مهربان دی، له مونږ نه د مونږ کارساز دی.

إِذْ يَتَلَقَّى الْمُتَلَقِّيَانِ عَنِ الْيَمِينِ وَعَنِ الشِّمَالِ قَعِيدٌ ﴿١٧﴾

(او یاد کړه) کله چې اخلی دوه اخیستونکی پرښتی چې یوه له ښی طرف نه ناسته وی لیکلو د نیکی ته او بله له کیڼ طرف نه ناسته وی لیکلو د بدی ته

**تفسير:** دوه پرښتی د الله په حکم سره د همیش لپاره د هر سړی په کتنه کښی دی هر هغه لفظ چې د دوی له خولی شخه ووځی یا هر کار چې دوی ئی کوی سم د لاسه ئی لیکی د نیکی لیکونکی ښی خوا ته او د بدی لیکونکی کینی خوا ته ناستی او تاکلی(مقرر کړی) شوی دی شه زیادت او نقصان نه کوی بلکه په ډیری امانت داری سره لیکنی کوی ﴿وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِينَ كِرَامًا كَاتِبِينَ يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ﴾ جزء عم (سورة الانفطار رقم ٨٢).

مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ ﴿١٨﴾

نه وائی دغه بنده هیڅ خبره مګر خو وی له ده شخه دوه ساتونکی، حاضر او تیار چې ژر ئی ولیکی.

**تفسير:** دا دوه پرښتی لیکلو ته همیش تیاری وی. او هیڅکله نه تری جدا کیږی هغه چې د ورځی له طرفه موظفی دی د نمازدیګر په وخت کښی عملونه د بندګانو، ثبت ته رسوی. او هغه

چې د شپې له طرفه موظفې دي په وخت د صباح کښې عملونه د بندګانو حضور د رب العالمين ته پورته کوي، حضرت رسول الله صلى الله عليه وسلم وائي چې الله تعالىٰ له دې ملائکو نه پوښتنه کوي چې د ما بندګان په څه حالت کښې وو هغوی ورته وائي چې په سجده وو نو حضرت رب العالمين په ملائکو باندې افتخار کوي نو له هم دې وجې نه بايد په دې دوو لمونځونو باندې ډير خيال وشي.

وَجَآءَتۡ سَكۡرَةُ ٱلۡمَوۡتِ بِٱلۡحَقِّۖ

او راغلې بې هوشي سختي د مرګ لپاره د دې چې په سترګو ئې ووينې په حق سره

**تفسير:** له يوه لوري ئې دفتر او دوسيه تياره شوې ده او له بل لوري ئې د مرګي په کنده باندې رسيدلې دې مړ کيدونکي دې او د ځنکدن په ربړونو(تکليفونو) کښې غوتې خوري نو هلته دا ګردې(تولې) خبرې ورته رښتيا ښکاري چې الله تعالىٰ او د هغه پيغمبرانو د هغه خبر ورکړی و او د مړي له مخې د هغه د سعادت او شقاوت پردې لرې کيږي. او د داسې پيښې پيښيدل يقيني او قطعي دي. ځکه چې د مطلق حکيم ډير حکمتونه د ده سره اړې (تعلق) لري. نو په دغه وخت کښې به وويلې شي دغه منکر انسان ته داسې چې:

ذَٰلِكَ مَا كُنتَ مِنۡهُ تَحِيدُ ۝١٩

دا مرګ هغه دې چې وې به ته له ده څخه په ځنګ کيدونکې او نه وې پرې اقرار کوونکې

**تفسير:** سړی ډير زيار(کوشش) کوي چې له مرګ څخه ځان وژغوري(وساتي) او د هغه د بد خوند او وحشت څخه تل ځان وساتي او دې خوا هغې خوا سر او پښې ووهي خو سره له دې د مرګي شيبه(لحظه) چيرې وروسته کيدونکې ده. آخر هغه په سر باندې راتلونکې ده او هيڅ يوه حيله او تدبير د مرګي مخه نشي نيولې.

وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِۚ ذَٰلِكَ يَوۡمُ ٱلۡوَعِيدِ ۝٢٠

او وبه پوکل شي په صور (شپيلې) کښې چې دا يوه ورځ ده د ويرولو (د کفارو په عذاب سره).

**تفسير:** وړوکی قیامت خو د مرګ وقت دی. وروسته له دی لوی قیامت حاضر دی فقط چی په صور او شپیلی کښی وپوکلی شی هغه ویروونکی ورځ موجودیږی چی انبیاؤ او پیغمبرانو خلق ترینه ویرولی وو.

وَجَآءَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّعَهَا سَآئِقٌ وَّشَهِيدٌ ﴿٢١﴾

او راځی هر نفس په دی ورځ کښی چی وی به له ده سره یو شړونکی (محشر ته) او شاهدی ورکوونکی (پر اعمال ئی لکه لاس، پښی او داسی نور).

**تفسير:** خلق به په قیامت کښی داسی حاضر کړل شی چی یوه پرښته به ئی میدان ته د وړاندی کولو دپاره راکاږی او بلی به ئی عملنامه نیولی وی چی د ده د ژوندانه ګرد(تول) احوال او خبری پکښی لیکلی شوی وی ښائی چی دا به همغه دوه پرښتی وی چی ﴿ كِرَامًا كَاتِبِينَ ﴾ ورته وائی او د هغو په نسبت ئی فرمایلی دی ﴿ إِذْ يَتَلَقَّى الْمُتَلَقِّيَانِ ﴾ الآية ـ او ښائی چی کومه بله وی. والله اعلم. نو وبه ویلی شی ده ته د الله تعالیٰ له جانبه داسی چی:

لَّقَدْ كُنتَ فِى غَفْلَةٍ مِّنْ هَٰذَا فَكَشَفْنَا عَنكَ غِطَآءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيدٌ ﴿٢٢﴾

په تحقیق سره (په دنیا کښی) وی ته په غفلت بیخبری له دی ورځی د عذاب څخه نو بیرته مو کړه له تا څخه پرده د غفلت ستا، نو سترګی ستا نن ډیری تیزی دی (چی پری وینی خپل ګرد(تول) اعمال)

**تفسير:** په هغه وخت کښی به وویلی شی دوی ته چی وی تاسی د دنیا په خوندورو شیانو کښی مشغول او له دی ورځی څخه بیخبر او بی پروا وی! او ستاسی سترګی د شهواتو او غوښتنو تیاری او پردی پتی کړی وی. هغه ښوونی چی پیغمبرانو تاسی ته کولی هغو ته مو فکر نه کاوه. نن هغه پرده ستاسی له سترګو څخه لری کوو او ستاسی لیدنه خورا(ډیر) زیاتوو، تر څو ښه وګوری آیا هغه خبری چی تاسی ته کیدلی صحیح وی او که غلطی؟ ثابته وه او ثابته شوه چی دا تولی خبری رښتیا وی، ځکه له هر یوه سره یو قرین شیطان او بل ئی له ملائکو نه د مراقبت لپاره ورسره همراه دی لکه چی په حدیث کښی وائی: **(ما منكم من احد الا وقد وكل به قرينه من الجن وقرينه من الملائكة ـ الحديث)**.

وَقَالَ قَرِينُهُ هَٰذَا مَا لَدَىَّ عَتِيدٌ ﴿٢٣﴾

او وبه وائی ملګری د ده (پرښته) دا دی هغه شي چې ماسره حاضر دی (د دفاترو د اعمالو د ده)

**تفسیر:** پرښتې به ئې له اعمالنامو سره حاضرې وي ځینې له (قرین) څخه شیطان مرادوی. یعنی شیطان به وائی دا مجرم حاضر دی چې ځما له خوا اغوا شوی ؤ. او هغه مې د دوزخ لپاره تیار کړی دی. مطلب دا چې هغه اغوا ځما له لاسه شوی ده خو په ما کښې دومره زور او تسلط چیرې ؤ چې هغه مې په جبرې دول(طریقه) سره په شرارت کښې اخته کړ دی پخپل اختیار، اراده او واک ګمراه شوی دی.

أَلْقِيَا فِي جَهَنَّمَ كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيدٍ ﴿٢٤﴾ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ مُّرِيبٍ ﴿٢٥﴾

(نو وبه ویل شي دوو پرښتو ته) وغورځوی تاسې په دوزخ کښې هر یو کافر عناد کوونکی منع کوونکی د خیر تیریدونکی له حدودو مشروعو، ظالم او شک کوونکی (په دین کښې).

**تفسیر:** د الله تعالیٰ له درباره به دغه حکم دوو پرښتو ته وشي چې داسې سړی دی په دوزخ کښې واچول شي!

الَّذِي جَعَلَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ فَأَلْقِيَاهُ فِي الْعَذَابِ الشَّدِيدِ ﴿٢٦﴾

هغه (کافر) چې ګرځولی ئې دی سره له الله! (الله بل) نو وغورځوی دی په عذاب سخت کښې

**تفسیر:** داسې سړی په دوزخ کښې د دیر سخت عذاب مستحق دی، ځکه چې تر مشرکینو نه لوی ظالمان نور په دنیا کښې نشته.

قَالَ قَرِينُهُ رَبَّنَا مَا أَطْغَيْتُهُ وَلَٰكِن كَانَ فِي ضَلَالٍ بَعِيدٍ ﴿٢٧﴾

وبه وائي ملګری د ده یعنی شیطان ای ربه ځمونږ، نه ؤ ګمراه کړی ما دی (جبراً) لیکن و دی پخپله په ګمراهی لرې کښې له حقه ځنې.

**تفسير:** ځما زور پر ده باندی نه رسیده. لږ څه اشاره می چی ورته وکړه دغه کمبخت پخپله ګمراه شو د نجات او فلاح له لیاری څخه لری ولوید. شیطان به داسی ویناو سره غواړی چی خپل جرم سپک وربښکاره کړی داسی جګړی او منازعی به مابین د دوزخیانو او خدایانو باطله و د هغوی کښی او په مابین د اغوا کونکو د دوی کښی دیری راځی چی قرآن له بعضی د هغو ځنی خبر ورکوی او وائی: ﴿ وَقَالَ الشَّيْطٰنُ لَمَّا قُضِيَ الْاَمْرُ اِنَّ اللّٰهَ وَعَدَكُمْ وَعْدَ الْحَقِّ وَوَعَدْتُّكُمْ فَاَخْلَفْتُكُمْ ؕ وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيْكُمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ اِلَّاۤ اَنْ دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لِيْ ۚ فَلَا تَلُوْمُوْنِيْ وَلُوْمُوْۤا اَنْفُسَكُمْ ؕ مَاۤ اَنَا بِمُصْرِخِكُمْ وَمَاۤ اَنْتُمْ بِمُصْرِخِيَّ ؕ اِنِّيْ كَفَرْتُ بِمَاۤ اَشْرَكْتُمُوْنِ مِنْ قَبْلُ ؕ اِنَّ الظّٰلِمِيْنَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴾ ( جزء - ۱۳ سورة ابراهیم آیت - ۲۲ )

قَالَ لَا تَخْتَصِمُوْا لَدَيَّ وَقَدْ قَدَّمْتُ اِلَيْكُمْ بِالْوَعِيْدِ ﴿۲۸﴾

وبه فرمائی (الله قهراً چی) جګړه مه کوی تاسی دلته له ما څخه چی فائده نه کوی جګړی د تاسی په دی ځای کښی او په تحقیق ړومبی لیږلی و ما تاسی ته ویرول خپل په ژبو د انبیاو.

**تفسير:** تاسی چتی(بیکاره) او اپلتی خبری مه کوی په دنیا کښی می هر چا ته د ښو او بدو لیاری وربښولی وی اوس هر یوه ته د هغه له جرم سره سمه جزا ورکوله کیږی هغه چی ګمراه شوی دی او هغه چی له دوی څخه ئی لیاره ورکه کړی ده دواړه به د خپلو جرمونو سزاوی مومی.

مَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ وَمَاۤ اَنَا بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿۲۹﴾

نه شی بدلیدلی هیڅ خبره په دی باره کښی په نزد زما او نه یم زه ظلم کوونکی پر بندګانو چی بی له ګناه ئی په عذاب کړم.

**تفسير:** ځمونږ له لوری به ظلم نه کیږی. هغه فیصله چی صادریږی عین حکمت او انصاف به وی «او خبره به نه بدلیږی» یعنی کافران به نه بښلی کیږی نو د دی لوی کافر شیطان ښښنه به چیری کیږی.

يَوْمَ نَقُوْلُ لِجَهَنَّمَ هَلِ امْتَلَاْتِ وَتَقُوْلُ هَلْ مِنْ مَّزِيْدٍ ﴿۳۰﴾

(یاده کړه هغه ورځ) چی وایو مونږ دوزخ ته داسی آیا ډک او موړ شوی ته له خلقو نه؟ او وبه وائی هغه آیا نور هم څه زیات ځای شته بلکه شته یعنی

زيات کړه زه لا ښه موړ شوی نه يم.

**تفسير:** د دوزخ وسعت او ارتوالی به له دومره خلقو څخه نه ډکيږی. او د قهر له شدته به نور کافران او نافرمانان هم ورغواړی.

وَأُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ غَيْرَ بَعِيدٍ ﴿٣١﴾

او رانژدی به کړ شی جنت لپاره د ويريدونکيو پرهيزگارانو چی نه به وی لری (له دوی نه).

**تفسير:** جنت به له دوی څخه لری نه وی. دوی به له ډير نژدی څخه د هغه تر او تازگی ښائست او سينگار وينی.

هَٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِكُلِّ أَوَّابٍ حَفِيظٍ ﴿٣٢﴾ مَنْ خَشِيَ الرَّحْمَٰنَ بِالْغَيْبِ وَجَاءَ بِقَلْبٍ مُنِيبٍ ﴿٣٣﴾ ادْخُلُوهَا بِسَلَامٍ ۖ

فرمائی الله چی دا هغه دی چی وعده به ئی کوله کيده له تاسی سره دپاره د هر رجوع کوونکی الله لره او د هر ساتونکی حدودو د هغه لره او هر هغه چی ويريږی له عذابه د رحمان په غيب سره او راتلونکی وی په زړه رجوع کوونکی سره الله ته (نو وبه فرمائی الله ځی ننوځی پکښی په سلامتيا سره)

**تفسير:** هغه کسان چی په دنيا کښی ئی الله تعالیٰ يادوه او له گناهونو څخه ئی ځانونه ژغورل (بچ کول) او د الله په لوری به ئی رجوع کوله او بی له ليدلو څخه د هغه له قهر او جلاله ويريدل او په يوه پاک او صاف رجوع کوونکی زړه د الله په حضور حاضر شوی و د هغه جنت وعده له داسی سړيو سره کړی شوی وه اوس ئی وخت رارسيدلی دی چی په سلامتيا او عافيت سره پکښی ننوځی او پرښتی دوی ته سلام اچوی او د پاک پروردگار سلام هم وررسوی.

ذَٰلِكَ يَوْمُ الْخُلُودِ ﴿٣٤﴾

دا ورځ د ورننوتلو په جنت کښی ورځ ده د هميشه توب په هغه کښی

**تفسير:** په حديث کښي وائی جنتيان چی جنت ته ننوزی. ورته ويل کيږی، ننوزئ بيا مو نو مرګ نشته، دوزخيانو ته په وخت د ننوتلو کښي دوزخ ته هم داسی ويل کيږی نو هغه ورځ هر چا ته هر څه چی وررسيږی د تل دپاره دی.

لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ فِيْهَا وَلَدَيْنَا مَزِيْدٌ ﴿۳۵﴾

وی به دغو (مومنانو) لره هغه چی غواړی ئی دوی په دی جنت کښي او له مونږ څخه ئی زيادت هم شته په هغو باندی

**تفسير:** هر شی چی وغواړی هغه وررسيږی برسيره په هغه داسی نعمتونه هم ور رسيږی چی د هغوی په خيال کښي نه وی رسيدلی لکه د الله تعالیٰ لقا او ليدنه. او ممکن دی له (ولدينا مزيد) څخه دا غرض وی چی له مونږ سره ډير شيان دی هر څومره چی د جنتيانو له خوا وغوښت شی هغه ګرد(ټول) به ورکړل شی او د الله تعالیٰ په ورکولو سره بيا هم څه لږتيا نه پيښيږی او نه د هغو لامله(له وجی) څه ربړ(تکليف) او مشکلات پيدا کيږی نو داسی بی شماره انعامات او عطايا ليری مه ګڼئ! ﴿وَاِنْ مِّنْ شَیْءٍ اِلَّا عِنْدَنَا خَزَآئِنُهٗ﴾ الآية - په حديث کښي وائی که الله تعالیٰ تولی آرزوګانی د بندګانو ورپوره کړی د ده په دربار کښي په اندازه د يوه وزر د مياشی هم څه نه کميږی.

وَكَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ هُمْ اَشَدُّ مِنْهُمْ بَطْشًا فَنَقَّبُوْا فِی الْبِلَادِ هَلْ مِنْ مَّحِيْصٍ ﴿۳۶﴾

او ډير مو هلاک کړی دی پخوا له دی څخه له اهل د زمانو پخوانيو نه چی هغوی ډير سخت او قوی و له دغو (کفارو د مکی) څخه له جهته د قوته نو ډير ځايونه د پنا ئی ولټول په ښارونو کښي، چی ګوندی پيدا به کړی ځای د ساتنی له مرګه ځنی، خو پيدا ئی نه کړ

**تفسير:** ړومبی د کفارو د اخروی تعذيب بيان و په منځ کښي د هغوی په مقابل کښي د اهل جنت د تنعم ذکر راغی اوس بيا د کفارو د سزا ورکولو ذکر فرمائی يعنی پخوا له آخرته په دنيا کښي مونږ ډير داسی شرير سرکش او غاړه غړوونکی قومونه تباه او خراب کړی دی چی په زور او قوت کښي له موجوده کافرانو څخه ډير لوړ(اوچت) و او په ډيرو ملکونو کښي ګرځيدلی

وو او راز راز(قسم قسم) تصرفات ئی پکښې کړی و، کله چې د الله تعالیٰ عذاب ورسید نو د تښتیدلو او پټیدلو لپاره هغوی ته په ګرد(تول) جهان کښې په هیڅ یو ځای کښې داسې ځای نه پیدا کیده ﴿ أَيْنَمَا تَكُونُوا يُدْرِككُّمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنتُمْ فِي بُرُوجٍ مُّشَيَّدَةٍ ﴾ الآیة - النساء رکوع (۱۱) آیت (۷۸)

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِمَن كَانَ لَهُ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ ﴿٣٧﴾

بیشکه په دغو (مذکوره و شیانو) کښې خامخا ذکر او پند دی هر هغه چا لره چې وی هغه لره زړه روغ او فکر کوونکی یا کیږدی غوږ نصیحت ته په داسې حال کښې چې دی حاضر متوجه وی په زړه سره

**تفسیر:** په دی عبرتناکو واقعاتو باندی له غور او فکر کولو څخه هم هغه خلق پند اخیستی شی چې د هغوی په سینه کښې هسې پوهیدونکی زړه وی چې یا پخپله په خبری باندی وپوهیږی یا د نورو له پوهولو څخه پوهه ومومی او غوږ ورته ونیسی ځکه چې دا هم د پوهنې یوه درجه ده چې سړی پخپله نه پوهیږی خو د نورو له ویښولو څخه متنبه او هوښیاریږی او منفعت تری آخلی. هغه چې نه پخپله پوهیږی او نه د نورو پوهولو ته غوږ ږدی، او نه ئی په زړه کښې ځای ورکوی، نو له هسې سړی څخه لوته او تیږه(ګټه) ښه ده.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ

او په تحقیق پیدا کړی دی مونږ آسمانونه او ځمکه او هغه نور مخلوقات چې په منځ د دغو (آسمانونو او ځمکه) کښې دی په شپږو ورځو کښې

**تفسیر:** د دی بیان پخوا له دی تیر شوی دی.

وَمَا مَسَّنَا مِن لُّغُوبٍ ﴿٣٨﴾

او نه وه رسیدلی مونږ ته هیڅ ستومانی

**تفسیر:** کله چې دی د اول ځلی له پیدا کولو څخه نه دی ستړی شوی نو د دوهم ځلی په پیدا کولو کښې به څرنګه ستړی کیږی؟ او تباه او برباد کول خو له جوړولو څخه ډیر آسان دی.

**فَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ**

نو صبر کوه (ای محمده) پر هغه چې وائي ئې دوی او تسبیح ووایه پیوست له حمده د رب خپل

**تفسیر:** که دا خلق په داسې غلتو خبرو باندې هم نه پوهیږي نو تاسې مه خپه کیږي! بلکه پر داسې چټي(بیکاره) خبرو باندې صبر وکړي! **(وهذا کان قبل الامر بالجهاد)** او د هغه الله تعالیٰ په یاد کښې د زړه له کومې مشغول اوسي! چې د ګردو(ټولو) آسمانونو او ځمکې پیدا کوونکی دی، او د هر شي په ودانولو او ورانولو باندې قدرت لري.

**قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوْبِ ﴿٣٩﴾ وَمِنَ الَّيْلِ فَسَبِّحْهُ**

پخوا له راختلو د لمر یعنې لمونځ د صبا او پخوا له لویدلو د لمر څخه یعنې لمونځونه د ماسپښین او د مازدیګر او په بعض کښې د شپې نه پس تسبیح وایه د دغه الله یعنې لمونځ د تهجد او ماسختنې وکړه.

**تفسیر:** دا د الله تعالیٰ د یادولو وختونه دي، په دې کښې عبادتونه او دعاوې قبلیږي. له ځینو روایتونو څخه ښکاریږي چې ړومبی ځمونږ په پیغمبر صلی الله علیه وسلم باندې د دریو وختونو لمونځ فرض و. سهار ـ مازدیګر او تهجد. لکه چې اوس هم دې دریو وختو ته یو خصوصي فضل او شرف حاصل دی. ښائي چې هر سړی په لمانځه، ذکر، دعا، تلاوت یا نورو ښو کارونو باندې په دغو وختو کښې مشغول اوسي او معمور ئې ولري. په حدیث کښې راغلي دي **(علیکم بالغدوة والروحة وشئ من الدُلجة)** ځینې وائي چې له قبل الطلوع څخه د سهار لمونځ او له قبل الغروب څخه د ماسپښین او مازدیګر لمونځونه او له (من اللیل) څخه د ماښام او ماسختن لمونځونه مراد دي.

**وَاَدْبَارَ السُّجُوْدِ ﴿٤٠﴾**

او وروسته له سجدو د لمونځونو څخه هم تسبیح ووایه!

**تفسیر:** وروسته له لمانځه څخه دې څه تسبیح او تهلیل وکړ شي چې هغه عبارت له سنتو لمونځونو او نوافلو څخه دي او یا عبارت له هغو اذکارو څخه دي چې په احادیثو کښې راغلي لکه درې دیرش کرته سبحان الله، درې دیرش کرته الحمدلله، څلوردیرش کرته الله اکبر او یا داسې

نور اذکار او اوراد چې په نصوصو کښې راغلي.

وَاسْتَمِعْ يَوْمَ يُنَادِ الْمُنَادِ مِنْ مَّكَانٍ قَرِيبٍ ﴿٤١﴾

او واوره غوږ کیږده (ای محمده) هغه ورځ چې آواز وکړی آواز کوونکی (اسرافیل) له ځای نژدی نه

**تفسیر:** وائی چې د بیت المقدس پر تیږی (ګټی) باندی به صور او شپیلی پوکل کیږی نو ځکه ئې نژدی ویلی دی. یا ئې دا مراد دی چې د هغه غږ به په هر ځای کښې له دیر نژدی څخه اوریده کیږی او تول به یو شانې اوری پرته(علاوه) له صور څخه نور غږونه هم د الله تعالیٰ له لوری آورول کیږی چې ځینې له دی آیت څخه هم هغه غږونه مراد وی چې په هغې ورځې کښې پرته(علاوه) له صور څخه له دیر نژدی څخه غوږونو ته رسیږی خو ښکاره نفخ صور دی. والله اعلم.

يَوْمَ يَسْمَعُونَ الصَّيْحَةَ بِالْحَقِّ ۚ ذَٰلِكَ يَوْمُ الْخُرُوجِ ﴿٤٢﴾

هغه ورځ چې واوری (دغه خلق) سخته چغه د (اسرافیل) په حقه سره دا (ورځ د آواز) ورځ د وتلو ده (له قبورو) نه.

**تفسیر:** کله چې دوهم ځلی صور او شپیلی پوکله کیږی نو ځمکه بالکل سره بیرته کیږی او ګرد(تول) مړی تری ژوندی راوځی او په میدان دریږی.

إِنَّا نَحْنُ نُحْيِي وَنُمِيتُ وَإِلَيْنَا الْمَصِيرُ ﴿٤٣﴾

بیشکه هم دا مونږ ژوندی کول کوو او مړه کول کوو او شته خاص مونږ ته راګرځیدل (د تولو امورو).

**تفسیر:** په هر حال موت او حیات ګرد(تول) د الله تعالیٰ د قدرت په لاس کښې دی او د هر دول(طریقه) ګرځیدلو پای(آخر) د الله تعالیٰ په لوری دی هیڅوک له دی څخه نه شي خلاصیدی.

يَوْمَ تَشَقَّقُ الْأَرْضُ عَنْهُمْ سِرَاعًا ۚ ذَٰلِكَ حَشْرٌ عَلَيْنَا يَسِيرٌ ﴿٤٤﴾

په هغه ورځ چې وچوی ځمکه له دوی څخه په چابکی سره دغه (ژوندی کول

تول دی پر مونږ باندی ډیر آسان.

**تفسیر:** ځمکه به چوی، مړی به له هغی څخه راووځی او د حشر د میدان په لوری به سره په منډو غونډیږی الله تعالیٰ به گرد (تول) ړومبی او وروستنی مخلوقات سره یو ځای تولوی او داسی کول هغه ته کوم لوی کار نه دی.

نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَقُولُونَ وَمَا أَنْتَ عَلَيْهِمْ بِجَبَّارٍ فَذَكِّرْ بِالْقُرْآنِ مَنْ يَخَافُ وَعِيدِ ﴿٤٥﴾

مونږ ته ښه معلوم دی هغه څه چی وائی ئی دوی او نه ئی ته په دوی باندی زور کوونکی (په راوړلو د ایمان) نو پند ورکوه په قرآن سره هغه چاته چی ویریږی له وعیدونو او ویرولو ځما په عذابونو د آخرت سره

**تفسیر:** هغه خلق چی له حشر څخه منکران دی هغوی چتی (بیکاره) اپلتی کوی. دوی پریږدی چی هسی چتی (بیکاره) خبری کوی او د هغوی معامله مونږ ته راوسپاری مونږ ته دوی گرد (تول) معلوم دی او په هغو خبرو مونږ ښه پوهیږو چی دوی ئی وائی. ستاسو دا کار نه دی چی په زور او زیادت سره په هر سری باندی هره یوه خبره ومنئ هو! هغوی ته قرآن کریم واوروی! او مخصوصاً هغوی ته نصیحت او لیار ښوونه وکړی! چی له الله تعالیٰ څخه وویریږی او په دی معاندینو پسی ډیر زیات هڅه مه کوی!.

**تمت سورة (قٓ) بتوفیقه تعالیٰ**

سورة الذاريات مكية وهى ستون آية وثلث ركوعات

رقم نزولها (٦٧) رقمها (٥١) ( نزلت بعد سورة الأحقاف )

د «الذاريات» سورت مکی دی (٦٠) آیتونه او دری رکوع لری په تلاوت کښی (٥١) او په نزول کښی (٦٧) سورت دی. وروسته د الاحقاف له سورت نه نازل شوی دی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

وَالذّٰرِيٰتِ ذَرْوًا ۝١ فَالْحٰمِلٰتِ وِقْرًا ۝٢ فَالْجٰرِيٰتِ يُسْرًا ۝٣ فَالْمُقَسِّمٰتِ اَمْرًا ۝٤

قسم دی په هغو بادونو باندی چی تیتوی (الوځوی) خاوری او نور شیان په الوتلو خپلو سره پس قسم دی په وریځو پورته کوونکیو د اوبو درنو سره پس قسم دی په کشتیو تلونکیو په نرمی سره په سر د اوبو پس قسم دی په (ملائکو) قسمت کوونکو د کارونو لویو په حکم د الله سره «لکه ارزاق باران او داسی نور».

**تفسیر:** ړومبی ډیر سخت بادونه او سخته سیلی الوځی چی د هغو له دوړو او غبار څخه وریځی پورته کیږی بیا له هغو څخه اوبه جوړیږی او هغه پیتی پورته ګرځی. بیا د اوریدلو په وخت کښی سپکه هوا چلیږی بیا د الله تعالیٰ له حکم سره سم د هری سیمی هومره ورښ چی په برخه ئی وی هغه ورویشل کیږی. پر دی هواو باندی الله تعالیٰ قسم خوری. ځینی عالمان له (ذاریات) څخه هواوی له (حاملات) څخه وریځی او له (جاریات) څخه ستوری او له (مقسمات) څخه پرښتی مرادوی. ګواکی د مقسم په ترتیب له ښکته والی څخه د پورته په لوری شوی دی. له حضرت علی کرم الله وجهه او نورو څخه روایت دی چی (ذاریات) هواوی (حاملات) وریځی (جاریات) بیړی او (مقسمات) هغه پرښتی دی چی د الله تعالیٰ په حکم خواړه او نور شیان تقسیموی. جواب د قسم دا دی چی:

اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ لَصَادِقٌ ۝٥ وَّاِنَّ الدِّيْنَ لَوَاقِعٌ ۝٦

بیشکه هغه چی له تاسو سره ئی وعده کاو شی چی هغه عبارت ده له ژوندی کولو پس له مرګه ځنی خامخا یوه وعده رښتیا ده او بیشکه چی جزا د عمل خامخا واقع کیدونکی او راتلونکی ده (نو ځانونه ورته ښه تیار کړی!)

**تفسیر:** دا د هواو او ورښو او نورو شیانو نظام ښه شاهد او ښوونکی دی چی د آخرت وعده رښتیا ده او د دنیا د اموراتو فیصله کول په عدل او انصاف سره هم ضروری دی. کله چی په نری کښی یو باد، ورښ، هوا هم بی له نتیجی نه ښوری نو آیا دا دومره لویه کارخانه به څرنګه بی له کومی نتیجی پخپل سر ګرځی؟ خامخا دوی لره به هم کومه عظیم الشانه نتیجه وی چی هغه ته مونږ آخرت وایو.

وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْحُبُكِ ۝٧

او (قسم دی) په آسمان خاوند د ليارو خلقی وو، مزينو

**تفسير:** په صاف، مضبوط او ډير ښه رونق لرونکی آسمان باندی قسم دی چی پر هغه باندی د ستوريو جال لويدلی راښکاری او په هغه کښی د ستوريو او پرښتو لياری شته. جواب د قسم دا دی چی:

إِنَّكُمْ لَفِي قَوْلٍ مُّخْتَلِفٍ ﴿٨﴾ يُؤْفَكُ عَنْهُ مَنْ أُفِكَ ﴿٩﴾

بيشکه تاسی ئی ای مشرکانو خامخا په يوه خبره مختلفه ګډه وډه کښی! ګرځول کاو شی له دغه (نبی، قرآن او ايمان څخنی په هغوی سره) هغه څوک چی ګرځولی شوی دی له هدايته په علم د الله کښی.

**تفسير:** د قيامت او د آخرت خبری هرومرو(خامخا) ستاسو د جګړو مورد ګرځيدلی دی. دا هغه سری منی چی د ربوبيت له دربار سره څه تعلق ولری. هغه چی له دی دربار رټلی او شړلی وی د خير او د سعادت له لياری څخه ګرځيدلی وی. نو هغه د دی شيانو له تسليم او منلو او قبلولو څخه تل بی برخی پاتی کيږی. که دوی يوائی د آسمان په نظم او نسق باندی فکر وچلوی او غور وکړی نو يقين ئی راځی چی په هسی خبرو کښی جګړی کول ناپوهی او حماقت دی.

قُتِلَ الْخَرَّاصُونَ ﴿١٠﴾

لعنت کړی شوی دی پر دروغ ويونکيو اټکل کوونکيو باندی

**تفسير:** په دوی ځکه لعنت شوی دی چی دوی د دين په خبرو کښی اټکلونه وهی او پخپل ګمان او اټکل سره د قطعياتو ترديد کوی. ﴿إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ﴾ د معنی او معرفت په امورو کښی د دوی ټول اعمال په تخمين او اټکل سره دی.

الَّذِينَ هُمْ فِي غَمْرَةٍ سَاهُونَ ﴿١١﴾

هغه کسان چی دوی په نهايت غفلت کښی سهو کوونکی غافل او بيخبره دی (له قيامت نه)

**تفسير:** د دنيا د چرچو او د مزو لامله(له وجې) دوی له الله تعالیٰ څخه او له آخرت نه بالکل غافل شوي دي.

يَسۡـَٔلُونَ أَيَّانَ يَوۡمُ ٱلدِّينِ ﴿١٢﴾

سوال کوي منکران (تمسخراً له محمد نه) چې کله به وي ورځ د انصاف (او د جزاء)

**تفسير:** د انکار او خندا په دول(طريقه) پوښتنې کوي ښه! خانه! هغه د عدل او د انصاف ورځ کله راځي؟ او دومره ولې وځنديده (ايساره شوه) ؟ نو فرمائي الله اکرم شانه واعظم برهانه په جواب د دوی کښې چې واقع به شي دا جزا.

يَوۡمَ هُمۡ عَلَى ٱلنَّارِ يُفۡتَنُونَ ﴿١٣﴾ ذُوقُواْ فِتۡنَتَكُمۡ هَٰذَا ٱلَّذِي كُنتُم بِهِۦ تَسۡتَعۡجِلُونَ ﴿١٤﴾

هغه ورځ چې دوی په اور باندې معذب شي ورته وبه ويل شي! وڅکئ تاسې (خوند د) عذاب ستاسې، دا دی هغه (عذاب) چې وی تاسې چې په جلتې سره مو غوښت دغه عذاب په دنيا کښې

**تفسير:** دا د الله تعالیٰ له لورې هغوی ته جواب ورکړی شوی دی چې لږ صبر وکړی! هغه ورځ راتلونکې ده. کله چې تاسې په اور کښې سره سم او کاږه واږه ولويږی او ښه په کښې وسوځې! نو هلته به تاسې ته وويل شي واخلې وڅکې دا مو د شرارت او استهزاء مزه او خوند او دا ده هغه ورځ چې تاسې ژر غوښتله درغله.

إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٖ وَعُيُونٍ ﴿١٥﴾ ءَاخِذِينَ مَآ ءَاتَىٰهُمۡ رَبُّهُمۡ

بېشکه ويريدونکې له الله او ځان ساتونکې له معاصيو به په جنت کښې وي او په چينو کښې به وي يعني ښېونکې د اوبو د دې چينو به وي. اخيستونکې به وي هغو نعمتونو لره چې ورکړی وي دوی ته رب د دوی.

**تفسير:** په ډيره خوښۍ هغه نعمتونه قبلوي چې الله تعالىٰ ورېښلي دوي ته چې يو له هغې ځخه انواع د چينو دي لکه سلسبيل، ﴿ عَيْنًا فِيهَا تُسَمّٰى سَلْسَبِيلًا ﴾ «الدهر» . تسنيم، ﴿ عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا الْمُقَرَّبُونَ ﴾ «التطفيف». جارية، ﴿ فِيهَا عَيْنٌ جَارِيَةٌ ﴾ «الغاشية» .

## إِنَّهُمْ كَانُوا قَبْلَ ذٰلِكَ مُحْسِنِينَ ﴿١٦﴾

بيشکه دوى و پخوا له دې ځخه! يعني په دنيا کښې محسنان او نيکي کوونکي

**تفسير:** له دنيا ځخه سره له ډيرو ښيګڼو (فايدو) راغلي و نن د هغو ښيګڼو (فايدو) ميوه مومي وروسته له دې د ښيګڼو (فايدو) لږ څه تفصيل هم راځي.

## كَانُوا قَلِيلًا مِنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ ﴿١٧﴾ وَبِالْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴿١٨﴾

وبه دوى (په دغه وصف) چې په لږ برخه د شپې کښې به اوده کيدل او په اکثره د شپې کښې به ئې عبادت کاوه او په وخت د ګهيځ (سحر وختې) کښې دوى مغفرت غوښت له الله نه د ګناهونو خپلو

**تفسير:** د شپې زياته برخه د الله تعالىٰ په عبادت کښې تيروى او د ګهيځ (سحر) په وخت کښې کله چې شپه پاى (آخر) ته ورسيږى له الله تعالىٰ ځخه د خپلو تقصيراتو ښښنه غواړى او وائى، الها ستا د معبوديت حق مې نشو ادا کړى هغه تقصيرات چې ځما ځخه واقع شوى دى پخپلى مهربانۍ او مرحمت سره ئې رامعاف کړه! د عبادت کثرت دوى نه مغروروى بلکه ځومره چې په عبوديت کښې ترقي کوى په هماغه اندازه په دوى کښې خوف او خشيت لا زياتيږى.

## وَفِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ ﴿١٩﴾

او په مالونو د دوى کښې حق او برخه وه سوالګر لره او صبر کوونکي لره (يعني مسکين سوال نه کونکي لره).

**تفسير:** محروم هغه اړ(مجبور) او محتاج دى چې له هيچا ځخه هيڅ شى نه غواړى مطلب ئې دا دى چې دوى برسيره پر زکوٰة له خپلو مالونو او شتو ځخه پخپلى خوښى سره سائلانو او محتاجانو ته برخي تاکى او مقرروى چې د التزام لامله (له وجې) ګواکى حق ورته وايه شى او

اغنيا باید له حال د داسې محتاجانو نه خبر وي چې دوی له شرم او غیرت نه له چا څخه څه نه غواړي.

وَفِي الْأَرْضِ آيَاتٌ لِلْمُوقِنِينَ ﴿٢٠﴾ وَفِي أَنْفُسِكُمْ ۚ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿٢١﴾

او په ځمکې کښې علامې او نښې دي، د قدرت د الله تعالیٰ یقین لرونکیو لره. په نفسونو او ځانونو ستاسې کښې هم علامې د عبرت دي آیا نو تاسې ئې نه وینې چې ترې پند واخلې

**تفسیر:** دا د شپې ویښتیا، استغفار او پر محتاجانو او اړو(ضرورتمندو) باندې خرڅ او لګول د مال شائې چې د دې یقین په بنا وي چې الله تعالیٰ شته او د ده په دربار کښې د هیڅا اجر او نیکي نه ضایع کیږي، نو ځکه متقیان په داسې شاقه عبادتونو ځان سنبالوي. له دغو نښو د قدرتونو د الله تعالیٰ څخه چې په آفاقي او انفسي یعنې په ځان او جهان کښې شته! که سړی پخپل ځان یا د ځمکې د مخې د موجوداتو په احوالو باندې فکر او غور وکړي نو دا تفکر او تعمق هر انسان په دې متیقین کوي چې د هرو نیکو او بدو جزا په هر ډول(طریقه) چې وي ضرور رسیدونکې ده.

وَفِي السَّمَاءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوعَدُونَ ﴿٢٢﴾

او په آسمان کښې دي (سبب د) رزق ستاسې چې (باران دي) او هغه چې له تاسو سره ئې وعده کړې شوې ده (د ثواب او عقاب)

**تفسیر:** په سائلانو او محتاجانو باندې له لګولو څخه مه ویریږئ په دې معنی چې که مونږ خپل مال اقرباو او فقیرانو ته ورکړو نو له کومه به ئې بیا وخورو، او مه په لګولو سره په مساکینو باندې څه منت او احسان ږدئ ځکه چې مونږ ستاسې ګردو(ټولو) روزي، اجر او ثواب سم له کړې شوې وعدې سره درکوو او د هر یوه روزي رسیدونکې ده هیڅوک ئې مخه نشي نیولی، او لګونکي لره به ډیر اجر او ثواب نور هم وررسیږي.

فَوَرَبِّ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ إِنَّهُ لَحَقٌّ مِثْلَ مَا أَنَّكُمْ تَنْطِقُونَ ﴿٢٣﴾

نو قسم دی وي ځما په رب د آسمان او ځمکې باندې بیشکه دا خبره چې وعده ئې کړې شوې ده خامخا حقه او رښتیا ده په مثل د هغې حقیقت او

واقعیت چی تاسو پری خبری کوی.

**تفسیر:** هسی چی ستاسی په وینا کښی څه شک نشته هم هغسی په دی خبری کښی هم څه شبهه نشته په یقین سره دا ورځ رسیدونکی ده او د قیامت لویه ورځ دریدونکی ده آخرت راتلونکی دی او د الله تعالیٰ کړدی (تولی) وعدی پوره کیدونکی دی. وروسته له دی نه د ﴿ وَفِيٓ أَمۡوَٰلِهِمۡ حَقّٞ لِّلسَّآئِلِ وَٱلۡمَحۡرُومِ ﴾ په مناسبت د حضرت ابراهیم علیه السلام د میلمه پالنی قصه را آوروی چی د لوط علیه السلام د قصی تمهید دی او له دغو دواړو قصو څخه دا راښکاریږی چی د الله تعالیٰ معامله په دنیا کښی له محسنانو او ښو خلقو او له مکذبانو او بدو سړیو سره څرنګه ده؟

هَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ضَيۡفِ إِبۡرَٰهِيمَ ٱلۡمُكۡرَمِينَ ٢٤

آیا رسیدلی او راغلی ده تاته (ای محمده) خبره د میلمنو د ابراهیم چی مکرمان او عزتمندان وو (په نزد د الله)

**تفسیر:** دا میلمانه هغه پرښتی وی چی په اوله کښی ابراهیم په هغوی باندی د بنی آدمانو ګمان کړی و او د هغوی ئی ډیره عزت داری کوله اګر چی د الله په دربار کښی پرښتی هم معززی او مکرمی دی لکه چی پاک الله فرمائی ﴿ بَلۡ عِبَادٞ مُّكۡرَمُونَ ﴾

إِذۡ دَخَلُواْ عَلَيۡهِ فَقَالُواْ سَلَٰمٗاۖ قَالَ سَلَٰمٞ قَوۡمٞ مُّنكَرُونَ ٢٥

کله چی ننوتلی دغه (پرښتی) پر دغه (ابراهیم) نو وی ویل (سلام کوو مونږ پر تا) په سلام کولو سره، وویل (ورته ابراهیم چی) سلام دی وی پر تاسو او په زړه کښی ئی دغه تیره شوه چی دوی یو) قوم ناآشنا دی

**تفسیر:** د سلام جواب ئی په سلام سره ورکړ او پخپلو زړونو یا په خپلو منځونو کښی ئی سره وویل چی دوی خو اوپره او ناپیژندلی سړی راښکاری.

فَرَاغَ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِۦ فَجَآءَ بِعِجۡلٖ سَمِينٖ ٢٦ فَقَرَّبَهُۥٓ إِلَيۡهِمۡ قَالَ أَلَا تَأۡكُلُونَ ٢٧

پس ورغی (ابراهیم) کور خپل ته نو رائی وړ (لائق) یو خوځی (سخوځ) تیار، وریت کړی نو ورنژدی ئی کړ هغوی ته وی ویل ولی نه خوری (یعنی وخوری

تری)

**تفسیر:** په ډیر اهتمام سره ئې په میلمستیا لاس پورې کړ او په ډیر تهذیب او خوږه ژبه ئې دوی ته وفرمایل «ګرانو میلمنو! ولې تاسو ډوډی نه خورئ؟» کله چې هغوی پرښتې وې او خواړه ئې نه و پکار نو دوی ورته وویل چې نه ئې خورو.

فَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً ۖ قَالُوا لَا تَخَفْ ۖ وَبَشَّرُوهُ بِغُلَامٍ عَلِيمٍ ﴿٢٨﴾

پس پټه کړه (ابراهیم) په زړه کښې له دوی نه ویره. ورته وې ویل دوی مه ویرېږه (مونږ لیږلی شوی د رب ستا یو) او زیری ئې ورکړ ده ته په یوه هلک ښه عالم هښیار سره

**تفسیر:** دلته ابراهیم علیه السلام وپوهیده چې دوی بنی آدمان نه دي بلکه ملائکې دي دا قصه پخوا له دې ځخه په تفصیل سره د (هود) په سورت او د (حجر) په سورت کښې تیره شوې ده هلته دې وکتله شي.

فَأَقْبَلَتِ امْرَأَتُهُ فِي صَرَّةٍ فَصَكَّتْ وَجْهَهَا وَقَالَتْ عَجُوزٌ عَقِيمٌ ﴿٢٩﴾

پس مخ ئې ورواړاوو ښځې د ده په غږ د حیرانتیا سره نو وئې واهه مخ خپل (په څپیړو) وویل دې چې زړه بوډۍ یمه شنده (نو څرنګه به وځیږوم زه ځوی؟)

**تفسیر:** حضرت بی‌بی ساره رضی الله تعالیٰ عنها چې په یوه ګوټ کښې ولاړه وه د هلک د ځیږیدلو د زیری له آوریدلو ځخه په چغو سر شوه او بلې خوا ته متوجه شوه او له ډیره تعجبه ئې په څپیړو خپل مخ ووهه او وې ویل «دا څرنګه د منلو وړ(لائق) خبره ده چې یوه هسې زړه بوډۍ او شنده ښځه لنګه شي چې په ځوانۍ کښې ئې اولاد نه دي شوی او اوس چې ډیره زړه او کړوپه شوې ده! د هلک مور شي».

قَالُوا كَذَٰلِكِ قَالَ رَبُّكِ ۖ إِنَّهُ هُوَ الْحَكِيمُ الْعَلِيمُ ﴿٣٠﴾

وویل دغو (ملائکو) هم داسې (لکه چې بشارت مو درکړ) ویلی دی رب ستا بیشکه هغه (الله) ښه حکمت والا ښه خبردار دی.

**تفسیر:** مونږ دا خبره له ځانه نه وایو بلکه ستاسی پروردګار هم داسی فرمایلی دی او هم هغه پاک الله ته دغه ښه معلوم دی چی چا ته څه شی؟ او په کوم وقت کښی ورکړ شی؟ (او بیا تاسی سره له دی چی د نبوت له کورنی څخه ئی نو ولی په دی زیری باندی تعجب کوی؟)

**تنبیه:** له ګردو(تولو) آیتونو څخه دا راښکاری چی دا هلک حضرت اسحاق علیه السلام دی چی د هغه زیری مور او پلار دواړو ته ورکړی شوی دی.

قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ أَيُّهَا الْمُرْسَلُونَ ﴿۳۱﴾

وویل (ابراهیم) نو څه کار (شان) دی ستاسو ای مرسلانو (رالیږلیو شویو د الله له جانبه).

**تفسیر:** یعنی ابراهیم علیه السلام له پرښتو څخه پوښتنه وکړه چه آخر تاسی د څه دپاره راغلی یئ؟ ښائی چه له قرینی څخه پوهیدلی وی چه دوی د کوم ضروری او اهم مقصد دپاره راغلی دی.

قَالُوا إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَىٰ قَوْمٍ مُّجْرِمِينَ ﴿۳۲﴾ لِنُرْسِلَ عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّن طِينٍ ﴿۳۳﴾

وویل دوی بیشکه مونږ چه یو رالیږلی شوی یو طرف د یوه قوم گنهگار (کافر) ته دپاره د دی چه ولیږو پر هغوی باندی تیږی (گټی) له ختو (پخو شوو په اور لکه پخی خښتی).

**تفسیر:** یعنی د لوط علیه السلام د قوم د سزا ورکولو دپاره ورلیږلی شوی دی ترڅو ئی د کنکرو د ډبرو په ورولو سره ووژنو. د(من طین) له قید څخه دا ښکاری چه دا د وریا (باران) له ږلیو نه وه چه هغه ته توسعاً تیږه (گټه) ویل کیږی.

مُّسَوَّمَةً عِندَ رَبِّكَ لِلْمُسْرِفِينَ ﴿۳۴﴾

نشان داره کړی شوی (په نامه د هغه چا چه پری ویشتل کیږی) په نزد د رب ستا دپاره د مسرفانو له حده تیریدونکیو (په کفر او فجور کښی دپاره د هلاک کولو)

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ له خوا په هغه باندی نښی لگولی شوی وی (چه لیکلی ؤ پر هری گټی باندی نوم د هغه چا چه پری ویشتلی کیده او هلاکیده) دا د عذاب کانی یواځی پر هغوی باندی لگیږی چه د عقل ـ دین او د فطرت له حدوده وتلی وی.

فَأَخْرَجْنَا مَنْ كَانَ فِيهَا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٣٥﴾ فَمَا وَجَدْنَا فِيهَا غَيْرَ
بَيْتٍ مِّنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿٣٦﴾

بیا راوویستل مونږ هغه څوک چه ؤ په دی کلیو کښی له ایمان لرونکیو څخه پس بیا ونه مونده مونږ په دغو کلیو کښی پرته (علاوه) له یوه کوره د مسلمانانو (د لوط) او کورنی د ده.

**تفسیر:** یعنی په هغه کلی کښی یوائی د حضرت لوط علیه السلام کورنی د مسلمانانو یو کور ؤ چه مونږ هغه له عذابه وژغوره (وساته) او ټول هستیدونکی ئی روغ رمټ پاتی شول او نور ټول سره هلاک او فنا شول.

وَتَرَكْنَا فِيهَا آيَةً لِّلَّذِينَ يَخَافُونَ الْعَذَابَ الْأَلِيمَ ﴿٣٧﴾

او پریښوده مونږ په (هلاکت) د دغو (کلیو) کښی یوه نښه (لویه د عبرت د هلاکت) دپاره د هغو کسانو چه ویریږی له عذاب دردناک څخه چه له بدو څخه ځان وژغوری (وساتی).

**تفسیر:** یعنی تر اوسه هلته د تباهی علائم او نښی شته او د دوی دغه ډیر ویروونکی وژل ویریدونکیو لره لوی عبرت دی او په دی قصی کښی د عبرت او نصیحت ښه پندونه لیدل کیږی.

وَفِي مُوسَىٰ إِذْ أَرْسَلْنَاهُ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ بِسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿٣٨﴾ فَتَوَلَّىٰ
بِرُكْنِهِ وَقَالَ سَاحِرٌ أَوْ مَجْنُونٌ ﴿٣٩﴾

او (پریښی دی مونږ ویریدونکیو ته علامی د قدرت) په (قصی د) موسیٰ کښی کله چه ور ومولیږه دغه (موسیٰ) طرف د فرعون ته په برهان واضح دلیل ښکاره سره (یعنی سره له معجزی او براهین) بیا نو مخ واړاوه (فرعون له ایمان راوړو) سره له قوت زور او لاؤ لښکر خپل او وویل (فرعون چه دغه موسیٰ کوډګر دی یا لیونی دی.

**تفسیر:** یعنی فرعون پخپل زور او قوت باندی مغرور شوی د حق له لاری څخه ئی مخ واړاوه. او

د دولت ارکان او تبر ئی هم له خپل ځان سره یو ځای ډوب کړل. فرعون به ویل چه «موسیٰ یا یو ګرندی کوډګر دی یا لیونی دی او له دغو دوو خبرو څخه خالی نه دی.

فَأَخَذْنَٰهُ وَجُنُودَهُۥ فَنَبَذْنَٰهُمْ فِى ٱلْيَمِّ وَهُوَ مُلِيمٌ ﴿٤٠﴾

نو ونیوه مونږ دغه (فرعون) او لښکر د ده نو وغورځول مونږ دوی په سیند کښی (نو غرق شول) او هغه ملامته کړی شوی ؤ.

**تفسیر:** یعنی مونږ په هغوی باندی څه زیادت نه دی کړی. هغوی پخپله ګرم او ملزم دی. چه ولی ئی کفر او غاړه غړول او سرکشی غوره کوله. او سره له پوهولو هم ونه پوهیدل. آخر هغه چه کړلی ئی ؤ ورځ ریبل.

وَفِى عَادٍ إِذْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ ٱلرِّيحَ ٱلْعَقِيمَ ﴿٤١﴾ مَا تَذَرُ مِن شَىْءٍ أَتَتْ عَلَيْهِ إِلَّا جَعَلَتْهُ كَٱلرَّمِيمِ ﴿٤٢﴾

او (پرېښی دی مونږ علامی د قدرت) په (قصی د) عاد کښی کله چه ومولیږه پر دوی باندی باد شنډ خیره نه به پرېښوده (دغه باد) هیڅ شی (له نفس او مال) چه وابه لوت په هغه باندی مګر خو وبه ئی ګرځاوه لکه وچ زوړ رژیدلی (وابښه توتی توتی).

**تفسیر:** یعنی د عذاب هغه سخته سیلی راوالوته چه له سیلمی له خیر او برکته تشه وه او د مجرمانو سته (بیخ) ئی وویسته او په هر شی باندی چه الوته د هغه دوړی به ئی ایستلی.

وَفِى ثَمُودَ إِذْ قِيلَ لَهُمْ تَمَتَّعُوا۟ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿٤٣﴾

او (پرېښی دی مونږ علامی د قدرت) په (قصی د) ثمود کښی کله چه وویل شو دوی ته (پس له اهلاک د ناقی) نفع واخلئ تاسی تر یوه وقته (د راتللو د عذاب) پوری.

**تفسیر:** یعنی حضرت صالح علیه السلام ثمودیانو ته وفرمایل «ښه ده څو ورځی نور هم د دنیا

مزی وخکئ! او د دی ځای سامان درغوند کړئ! په پای (آخر) کښی به د الله تعالیٰ په عذاب اخته شئ».

فَعَتَوْا عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ فَأَخَذَتْهُمُ الصَّعِقَةُ وَهُمْ يَنْظُرُونَ ﴿۴۴﴾ فَمَا اسْتَطَاعُوا مِنْ قِيَامٍ وَمَا كَانُوا مُنْتَصِرِينَ ﴿۴۵﴾

نو سر ئی وغړاوه له امره حکمه د رب خپل نو ونیول دوی تکی (د تندر عذاب هلاک کوونکی) او دوی به (ورته) کتل نو بیا نه توانیدل دوی چه پورته شی (وتښتی له عذاب د الله ځخه) او نه ؤ دوی بدل اخیستونکی (له مونږه مقابله کوونکی له عذاب الله سره).

**تفسیر:** یعنی د دوی شرارت ورځ په ورځ پسی زیاتیده. آخر د الله تعالیٰ عذاب راغی ـ یوه سخته تکه (تندر) ولویده او په یوی کتنی هغوی تول یخ یخ شول. او د هغوی هغه تول زور او قوت او متکبرانه دعوی او د ښه او بد ویناوی ګردی (تولی) په خاورو کښی ولړلی شوی. د دوی د یوه له لاسه دومره ونه شوه چه له سرګردانی ځخه وروسته له خپل ځای ځخه وخوځیږی. نو دوی به ځرنګه انتقام او بدل اخلی؟ او ځه ډول (طریقه) به نور خپلو مرستو (مدد) ته وغوښتی شی؟.

وَقَوْمَ نُوحٍ مِنْ قَبْلُ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا فَاسِقِينَ ﴿۴۶﴾

او (هلاک کړی ؤ مونږ) قوم د نوح پخوا له دی (اهلاک د دی قومونو) بیشکه دوی ؤ قوم فاسقان وتونکی له فرمان.

**تفسیر:** یعنی له دی قوم ځخه پخوا د نوح علیه السلام قوم د خپل بغاوت او سرکشی په سبب تباه شوی دی. ځکه چه هغوی په نافرمانی کښی له حده ډیره تیری کړی وه.

وَالسَّمَاءَ بَنَيْنَاهَا بِأَيْدٍ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ ﴿۴۷﴾

او آسمان موجود کړی دی مونږ په ایدی (د قدرت خپل) او بیشکه مونږ خامخا پراخوونکی یو (او هر شی مو له واک (اختیار) او قدرته پوره دی).

**تفسير:** يعني الله تعالیٰ آسمان غوندی یو لوی څیز پخپل قدرت او قوت سره پیدا کړی دی او هغه ته له آسمان او له ځمکی څخه د نورو لویو شیانو پیدا کول هیڅ مشکل نه دی.

وَالْأَرْضَ فَرَشْنٰهَا فَنِعْمَ الْمٰهِدُوْنَ ﴿٤٨﴾

او ځمکه غوړولی ده مونږ نو ښه غوړوونکی یو مونږ.

**تفسير:** یعني آسمان او ځمکه ټول د الله تعالیٰ پیدا کړی اجسام دی او هغه ټول د الله تعالیٰ په واک (اختیار) او قبضه کښی دی نو د دی مجرم به چیری وتښتیدی شی؟ او کوم ځای ته به پناه یوسی؟ که سړی د دی دنیا او د کائناتو د خالق په عجیبو او غریبو کارونو او چارو کښی فکر وچلوی او غور پکښی وکړی او د سلیم عقل خاوند وی نو الله تعالیٰ به ښه وپیژنی او وبه پوهیږی چه پرته (علاوه) له الله تعالیٰ څخه هیڅوک هیڅ واک (اختیار) نه لری.

وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ﴿٤٩﴾

او له هر څیز څخه پیدا کړی دی مونږ جوړی دوه قسمه (نر - ښځه) دپاره د دی چه تاسی پند واخلئ (په شئ چه یواځی فردیت او وحدانیت د الله صفت دی).

**تفسير:** یعني پیدا کړی دی مونږ نر او ښځه لکه چه «ابن زید» ویلی دی او نن نوی حکماء هم په هغه باندی اعتراف کوی چه په هری نوعی کښی د نر او ښځی تقسیم شته - یا له (زوجین) څخه متقابل او متضاد شیان مراد دی لکه شپه ورځ - آسمان ځمکه - رڼا (رڼرا) تیاره - تور سپین - روغتیا - ناروغتیا - ایمان کفر او د دوی په شان نور. پس ووایه ای محمده دوی ته داسی چه:

فَفِرُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ ۭ اِنِّىْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٥٠﴾ وَلَا تَجْعَلُوْا مَعَ اللّٰهِ اِلٰـهًا اٰخَرَ ۭ اِنِّىْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٥١﴾

او وتښتئ (رجوع وکړئ) په طرف د الله (په طاعت سره) بیشکه زه تاسی ته له طرفه د هغه (الله) ویروونکی ښکاره یم او مه ګرځوئ مه شریکوئ تاسی

سره له الله معبود بل بیشکه زه تاسی ته له طرفه د هغه (الله) ویروونکی ښکاره یم.

**تفسیر:** یعنی کله چه آسمان او ځمکه او ګرد (تول) کائنات د واحد الله تعالیٰ پیدا کړی شیان دی او د هغه تر واک (اختیار) او حکومت لاندی دی نو بنده لره ښائی چه له هری خوا ځخه لری شی! او د هغه لوری ته په منده وروځغلی! که د هغه د خوا نه ځغلی او رجوع ورته نه کوی نو دا د ډیری ویری خبره ده که کوم بل یو شی ته رجوع وکړه شی نو هغه هم د ویریدلو شی دی د دی دواړو صورتونو له ویروونکو نتیجو او پای (آخر) ځخه زه په ښکاره ډول (طریقه) تاسی ویروم.

كَذَٰلِكَ مَآ أَتَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا قَالُواْ سَاحِرٌ أَوۡ مَجۡنُونٌ ۝٥٢

هم داسی (چه وائی تاته قوم د تا ساحر، مجنون) نه دی راغلی هغو کسانو ته پخوا له دوی ځخه هیڅ رسول مګر خو ویل هغوی چه (دی) ساحر کوډګر دی یا مجنون لیونی دی.

**تفسیر:** یعنی که داسی ښکاره تنبیه او انداز ته دا منکران غوږ نه ږدی نو مه غمجن کیږئ! له دوی ځخه پخوا هغو کافرو قومونو ته چه پیغمبران ورتلل هغوی ته به ئی هم داسی کوډګر او لیونی ویل او د هغوی په پندونو او نصیحتونو باندی ئی خندل او ملندی به ئی پری وهلی. شیخ الهند د دی آیت ترجمه داسی کړی ده «هم داسی له دوی ځخه پخوا خلقو ته چه کوم رسول راغلی دی ـ هغه ته ئی هم دا ویل چه کوډګر یا لیونی دی».

أَتَوَاصَوۡاْ بِهِۦۚ بَلۡ هُمۡ قَوۡمٞ طَاغُونَ ۝٥٣

آیا وصیت کړی دی دوی یو بل ته په دی خبری سره (نه) بلکه هم دوی دی قوم سرکشان.

**تفسیر:** یعنی د هری زمانی کافران په دی خبری باندی هم داسی متفق‌اللفظ ؤ لکه چه دوی یو بل ته وصیت کړی وی او بیا مره شوی وی چه د الله هر یو رسول چه راشی چه ښائی چه هغه ته ساحر یا مجنون ووائی! او په واقع کښی به ئی کله وصیت کاوه؟ هو! د شرارت په عنصر کښی

ګرد (تول) سره شریکان او مله دي او د هم دي اشراک لامله (له وجې) پخوانیو شریرانو هم هغسې خبرې کړي دي لکه چه اوسني شریران ئې هم کوي.

فَتَوَلَّ عَنْهُمْ فَمَآ أَنتَ بِمَلُومٍ ۝٥٤ وَذَكِّرْ فَإِنَّ ٱلذِّكْرَىٰ تَنفَعُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۝٥٥

پس مخ وګرځوه ته له دوی څخه پس نه ئې ته هیڅ ملامت کړی شوی (ځکه چه پوره تبلیغ دې کړی دی) او تل نصیحت کوه پس بیشکه چه ذکر پند ګټه (فائده) نفعه رسوي مؤمنانو ته.

**تفسیر:** یعني تاسي د تبلیغ او دعوت فرض هسې چه ښائي ادا کړی دی ـ اوس د زیات غمجن کیدلو او فکر وهلو ضرورت نشته په نه منلو باندې کوم الزام چه راتلونکی دی هغه پر هم دغو نمننونکیو او معاندینو باندې دی هو! پوهول ستاسي کار دی نو دا د پوهولو سلسله جاري ولرئ! د هر چا په قسمت او برخه چه ایمان وي هغه ته دا پوهول نافع او ګټور واقع کیږي او هغو کسانو ته به چه ایمان ئې راوړی دی لا ګټه (فائده) وررسوي او په منکرانو باندې به د الله تعالیٰ حجت تمامیږي.

وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ۝٥٦

او نه دي پیدا کړي ما پیریان او انسانان مګر لپاره د دې چه عبادت وکړي دوی ځما.

**تفسیر:** شیخ الهند رحمة الله علیه د دې آیت ترجمه داسې کوي او هر څه چه مو پیدا کړي دي جن او آدمي خو لپاره د بندګۍ خپلې یعني د هغو له پیدا کولو څخه شرعاً بندګي مطلوبه ده نو ځکه خلقتاً په دوی کښې داسې استعداد ایښود شوی دی چه که وغواړي پخپل اختیار د بندګۍ په لاره کښې تلی شي داسې خو د کونیه او قدریه په اعتبار هر یو شي د هغه د تکویني حکم په مقابل کښې عاجز او ناتوان دی. ولې داسې یو وقت هم راتلونکی دی چه ګرد (تول) بندګان پخپلې ارادې د عالم تخلیق دا شرعي غرض پوره کوي. په هر دول (طریقه) چه وی تاسي پوهول کوئ چه په پوهولو سره دا شرعي مقصود لاس ته راځي.

مَآ أُرِيدُ مِنْهُم مِّن رِّزْقٍ وَمَآ أُرِيدُ أَن يُطْعِمُونِ ۝٥٧
إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلرَّزَّاقُ ذُو ٱلْقُوَّةِ ٱلْمَتِينُ ۝٥٨

او اراده نه لرم زه له دوی څخه د هیڅ رزق روزی (ما لره او ځانونو خپلو ته) او اراده نه لرم زه د دی چه طعام راکړی ما لره دوی (او ځانونو خپلو ته) بیشکه الله هم دی ښه رزق روزیورکوونکی دی څیښتن (خاوند) د قوت محکم مضبوط دی.

**تفسیر:** یعنی د دوی له بندګی څخه ماته هیڅ ګټه (فائده) نه رارسیږی بلکه د هم دوی ګټه (فائده) په کښی ده. زه هسی یو مالک او بادار نه یم چه خپلو نوکرانو ته ووایم چه ماته وګټئ! او رائی وړئ! یا ځما په مخ کښی د خوړو او څښو شیان کیږدئ! ځما ذات له داسی تخیلاتو څخه پاک او صاف لوړ (اوچت) لوی پورته دی. زه له دوی څخه رزق او خواړه او نوری ګټی نه غواړم بلکه هغوی ته زه پخپله خواړه او ګټی وررسوم. ما غوندی یو مالک الملک قادر ـ توانا ـ زوروور ته به تاسی غوندی عاجزان ناتوانان څه خدمت وکړی شی؟ او زه به څه اړه (احتیاج) او ضرورت حاجت تاسی ته لرم د بندګی امر می پر تاسی باندی ځکه کړی دی چه تاسی می د ستر تولواکی (شهنشاهی) عظمت ـ کبریا او لوئی په ویلو او کولو (قولا ـ فعلا) ومنئ تر څو ځما د خصوصی الطافو او مراحمو مستحق او مورد وګرځئ.

نه می ګټی ته وګری کړل پیدا
تل ښه وی پر دوی باندی ځما
من نه کردم خلق تاسودی کنم
بلکه تا بر بندګان جودی کنم

فَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا ذَنُوبًا مِّثْلَ ذَنُوبِ أَصْحَابِهِمْ فَلَا يَسْتَعْجِلُونِ ﴿٥٩﴾

پس بیشکه هغو کسانو لره چه ظلم ئی کړی دی (په نفسونو خپلو او په بل چا) حصه د عذاب ده پشان د حصی د عذاب د یارانو د هلاک کړیو شویو د دوی پس تلوار دی نه کوی دوی (په ما باندی په غوښتلو د عذاب کښی که ئی چیری وروستی کړم).

**تفسیر:** یعنی که دا ظالم د بندګی په لوری نه درومی نو ویوهیږئ چه د نورو ظالمانو په شان د ده سلواغه او بوکه هم له کفر او شرک څخه ډکه ده او اوس دوبیږی ـ نو خامخا د هغوی په ژر سزا ورکولو کښی تلوار مه کوئ لکه چه نورو کفارو ته له خدائی سزا څخه برخه رسیدلی ده دوی ته هم رسیږی.

فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ كَفَرُوا مِن يَوْمِهِمُ الَّذِي يُوعَدُونَ ﴿۶۰﴾

پس افسوس هلاک خرابی سخت عذاب دی هغو کسانو ته چه کافران شوی دی
له ورځی د عذابه د دوی څخه هغه ورځ چه وعده ئی ورسره کړی شوی ده.

**تفسیر:** یعنی د قیامت ورځ یا له هغی څخه به پخوا د سزا کومه بله ورځ راځی لکه چه د مکی مشرکانو ته د بدر په غزا کښی سخته سزا ور ورسیده.

تمت سورة الذاريات ولله الحمد والمنة

سورة الطور مكية وهى تسع واربعون آية وفيها ركوعان رقمها (۵۲) تسلسلهاحسب النزول (۷٦)
نزلت بعد سورة السجدة.
د «الطور» سورت مکی دی نهه څلویښت آیتونه دوه رکوع لری په تلاوت کښی (۵۲) او په نزول کښی (۷٦) سورت دی.
وروسته د «السجدة» له سورت څخه نازل شوی دی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

وَالطُّورِ ﴿۱﴾

قسم دی په (غره د) طور باندی.

**تفسیر:** یعنی د «طور» غر چه په هغه باندی موسیٰ علیه السلام له الله تعالیٰ سره خبری اتری کولی یا به تری مراد مطلق غرونه وی ځکه چه د ځمکی میخونه دی او په کښی د مخلوقاتو لوی منافع دی او په دوی کښی د الله تعالیٰ اکرم شانه واعظم برهانه لوی لوی نعمتونه دی.

وَكِتَابٍ مَّسْطُورٍ ﴿۲﴾ فِي رَقٍّ مَّنشُورٍ ﴿۳﴾

او په کتاب لیکلی شوی باندی په کاغذ ارت خور کړی شوی کښی

**تفسیر:** له دی کتاب ځنې ښائی لوح محفوظ مراد وی یا د خلقو اعمالنامی یا قرآن کریم یا د طور په مناسبت تورات یا عام سماوی کتابونه مراد دی دا ټول احتمالات شته.

وَالْبَيْتِ الْمَعْمُورِ ﴿٤﴾

(او قسم دی) په کور معمور ودان کړی شوی باندی (په آسمان کښې).

**تفسیر:** ښائی چه له دی ځنې کعبه شریفه مراد وی یا د کعبې له محاذ سره سم په اووم آسمان کښې د پرښتو کعبه ده چه هغې ته بیت المعمور وائی لکه چه له احادیثو ځنې ثابته ده.

وَالسَّقْفِ الْمَرْفُوعِ ﴿٥﴾

او قسم دی په چت پورته کړی شوی باندی (چه آسمان دی).

**تفسیر:** یعنی په آسمان باندی قسم دی چه پر ځمکی باندی لکه چت داسی دی یا په له «**السقف المرفوع**» ځنې عرش عظیم مراد وی چه له ګردو (ټولو) آسمانونو ځنې هسک (اوچت) دی او له روایتونو ځنې ښکاری چه هغه د جنت چت دی.

وَالْبَحْرِ الْمَسْجُورِ ﴿٦﴾

او (قسم دی) په بحر سیند تود یا ډک کړی شوی باندی.

**تفسیر:** یا به د دنیا کوم او خارخوړی سیندونه (دریاهای جوشان) مراد وی یا به هغه سیند مقصد وی چه د ګردو (ټولو) آسمانونو د پاسه او تر عرش عظیم لاندی بهیږی او له روایتونو ځنې ثابت شوی دی. جواب د قسم دا دی چه:

إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ ﴿٧﴾ مَّا لَهُ مِن دَافِعٍ ﴿٨﴾

بیشکه عذاب د رب ستا خامخا واقع کیدونکی دی (په مستحق ئی) نشته هغه لره هیڅوک دافع لری کوونکی.

**تفسير:** يعني دا ګرد (تول) شيان چه قسم پرې ياد شو شهادت ورکوي چه الله تعالىٰ ډير يو قوت او قدرت لرونکي او باعظمت ذات دی نو په هغو کسانو باندې به چه د ده احکام نه مني ولې سخت عذابونه نه راځي؟ او کوم يو داسې طاقت به پيدا شي چه د هغه د راليږلي شوي عذاب مخه ونيسي؟.

يَّوۡمَ تَمُوۡرُ السَّمَآءُ مَوۡرًا ۝٩

هغه ورځ چه وخوځيږي آسمان په خوځيدلو سره.

**تفسير:** يعني آسمان به ولړځيږي او د ډيرو خوځيدلو او لړځيدلو لامله (له وجې) به وشليږي وبه چوي.

وَّتَسِيۡرُ الۡجِبَالُ سَيۡرًا ۝١٠

او روان به شي غرونه په روانيدلو سره.

**تفسير:** يعني غرونه به له خپلو ځايونو څخه وخوځيږي او پاغوندو غوندې به يوې خوا او بلې خوا ته رغړي او د وريځو په شان به يوه لوري او بل لوري ته درومي.

فَوَيۡلٌ يَّوۡمَئِذٍ لِّلۡمُكَذِّبِيۡنَ ۝١١ الَّذِيۡنَ هُمۡ فِيۡ خَوۡضٍ يَّلۡعَبُوۡنَ ۝١٢

نو خرابي افسوس هلاک دی په دغه ورځ کښې دروغجن کوونکيو ته هغو لره چه دوی په چتې (بيکاره) خبرو جوړولو کښې لوبې مشغولتيا کوي.

**تفسير:** يعني چه نن په لوبو تماشو او نندارو کښې مشغوليږي او راز راز (قسم قسم) خبرې جوړوي او د لوئي ورځي (آخرت) تکذيب کوي هغوی لره به د آخرت په ورځ کښې سخته سزا ورکوله کيږي او پرته (علاوه) له خرابي او تباهي به بل کوم شي نه وررسيږي.

يَوۡمَ يُدَعُّوۡنَ اِلٰى نَارِ جَهَنَّمَ دَعًّا ۝١٣ هٰذِهِ النَّارُ الَّتِيۡ كُنۡتُمۡ بِهَا تُكَذِّبُوۡنَ ۝١٤

هغه ورځ چه تیل وهلی پوری وهلی شي دوی اور د دوزخ ته په تیل وهلو پوری وهلو سره (وبه ویلی شي دوی ته) دا دی هغه اور چه وئ تاسی چه په دی به مو دروغ ویل (یعني ترې منکران وئ).

**تفسیر:** یعني پرښتي به له هغوی سره په سخت ذلت او خواری معامله کوی او په تیل وهلو سره ئې تر دوزخ پوری بیائی. او هلته ورته وائی دا دی حاضر او تیار دی هغه اور چه تاسی به هغه دروغ ګڼانه.

أَفَسِحْرٌ هَٰذَا أَمْ أَنتُمْ لَا تُبْصِرُونَ ﴿١٥﴾

آیا پس سحر کوډی دی دا (عذاب چه وینئ تاسو) که یئ تاسی چه نه ئې وینئ.

**تفسیر:** یعني تاسی به په دنیا کښي انبیاء علیهم السلام ته کوډګر (ساحر) او د هغوی وحی ته به مو کوډی (سحر) ویلی. اوس نو لږ څه راوښیئ چه دا دوزخ چه د هغه خبر تاسی ته انبیاؤ علیهم السلام درکړی ؤ آیا په رښتیا سره جادو کوډی یا نظربندی ده؟ یا دا چه په دنیا کښي ستاسی سترګی د حق له لیدلو څخه عاجزی وی او نه مو شوی لیدلی دلته هم د دوزخ د اور له لیدلو څخه عاجزی دی؟.

اصْلَوْهَا فَاصْبِرُوا أَوْ لَا تَصْبِرُوا سَوَاءٌ عَلَيْكُمْ ۖ إِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٦﴾

ځئ ننوځئ په دغه دوزخ کښي پس صبر وکړئ تاسی یا مه کوئ صبر برابر دی (دغه دواړه کارونه) په تاسی باندی بیشکه هم دا خبره ده چه جزا درکوله شي تاسی ته د هغو (کارونو) چه وئ تاسی چه کول به مو (په دنیا کښي).

**تفسیر:** یعني کله چه په دوزخ کښي ولویږئ او هلته وویریږئ او ډیر شورماشور چغی په کښي وکړئ نو سره له هغه به هیڅوک ستاسی چغو ته غوږ کیښږدی او نه به مو مرستی (مدد) ته څوک درشي. که په فرض محال تاسی لږ څه چپ شئ نو پر تاسی باندی به څوک رحم کوونکی او زړه

سوځوونکی هم نه پیدا کیږی. لنده ئی دا چه دواړه خبری سره برابری دی. له دی بندی خانی څخه ستاسی وتل سخت دی او هیڅ یوه لاره نه لری هغه کارونه چه تاسی په دنیا کښی کول د هغو سزا او هیداد هم دا د تل دپاره بندیتوب (حبس دوام) او ابدی عذاب دی.

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَنَعِيمٍ ﴿١٧﴾ فَاكِهِينَ بِمَا آتَاهُمْ رَبُّهُمْ وَوَقَاهُمْ رَبُّهُمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ ﴿١٨﴾

بیشکه ویریدونکی (له الله ـ ځان ساتونکی له معاصیو) په جنتونو کښی به وی او په نعمتونو کښی به وی میوی خوړونکی خوشالیدونکی به وی په هغو (شیانو) چه ورکړی دی دوی ته رب د دوی او ساتلی دی دوی رب د دوی له عذاب د دوزخ.

**تفسیر:** یعنی هغه کسان چه په دنیا کښی له الله تعالیٰ څخه ویریدل په جنت کښی به بالکل مأمون او بیفکره اوسیږی. هلته به دوی ته د هوسائی (راحت) ـ آرامی او د عیش هر راز (قسم) اسباب او سامان موجود وی. پرته (علاوه) له هغو څخه آیا یوائحی دا ښښنه او انعام لږ دی چه الله تعالیٰ به ئی د دوزخ له اوره وساتی؟!
او وبه ویل شی دغو متقیانو ته له جانبه د الله تعالیٰ اجل واعلیٰ شانه واعظم برهانه داسی چه:

كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٩﴾ مُتَّكِئِينَ عَلَىٰ سُرُرٍ مَّصْفُوفَةٍ

خورئ او څښئ ښه هضمیدونکی په بدل د هغو (ښو اعمالو) چه وئ تاسی چه کول به مو (په دنیا کښی) حال دا چه تکیه کوونکی به ناست وی دوی پر تختونو باندی چه برابر به ایښود شوی وی صف صف.

**تفسیر:** یعنی د جنتیانو مجلس به هسی وی چه ګرد (تول) جنتیان لکه باچاهان غوندی پخپلو تختونو باندی یو له بل سره مخامخ ناست وی او د هغوی ترتیب به خورا (ډیر) ښه وی.

وَزَوَّجْنَاهُم بِحُورٍ عِينٍ ﴿٢٠﴾ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَا أَلَتْنَاهُم مِّنْ عَمَلِهِم مِّن شَيْءٍ

او په نکاح به ورکړو دوی لره حوری ښی ښائسته غټی سترګی او هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او متابعت کړی وی د دوی اولادونو د دوی په ایمان سره نو پیوست به کړو مونږ په دوی پوری اولاد د دوی او کم به نه کړو مونږ دغو (پلرونو) لره له (جزاء د) عملونو د دوی هیڅ شی.

**تفسیر:** یعنی د کاملانو اولاد او د دوی متعلقین که په ایمان باندی قائم وی او د هم هغو کاملانو په لاره باندی لاړ شی ـ او هغه خدمتونه چه د دوی اسلافو انجام کړی دی دوی هم د هغو په انجام او تکمیل کښی سعی وکړی نو د الله تعالیٰ په فضل او کرم به دوی په جنت کښی له هغوی سره یو ځای کیږی که څه هم د دوی اعمال او احوال د دوی له اعمالو او افعالو څخه په ځنګه والی او ځومره والی کم او کیفیت کښی راښکته وی نو بیا هم د هغو لویانو د عزت او اکرام دپاره دا تابعان له متبوعینو سره یو ځای کیږی. او ممکن دی چه ځینو ته پوره همغه ځای او مقام هم ورکړ شی. لکه چه له روایتونو څخه معلومیږی او ښکاری. په دی صورت کښی داسی ګمان ونه کړ شی چه د دی کاملانو له ځینی ښو څخه به څه قدر لږ کړ شی او د هغه په بدل کښی د دوی ځوځات (ذریات) ته څه ثواب ورکاوه کیږی. نه دا به د الله تعالیٰ له فضل کرم او احسان څخه وی چه د قاصرینو لږ عمل ته ډیر موقعیت ورښی او هغه د کاملینو تر مقام پوری رسوی.

**تنبیه:** د ﴿ وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ ﴾ مطلب چه دی احقر داسی اخیستی دی د «صحیح بخاری شریف» دا حدیث له هغه سره مناسبت لری «**قالت الانصار یا رسول الله ان لکل قوم أتباعا واناقد اتبعناک فادع الله ان یجعل لنا أتباعنا منا ـ قال النبی صلی الله علیه وسلم اللهم اجعل أتباعهم منهم**».

كُلُّ امْرِئٍ بِمَا كَسَبَ رَهِينٌ ﴿٢١﴾

هر سړی به په هغه عمل چه کړی ئی وی ګروآخته وی (که نیک وی یا بد).

**تفسیر:** پاس د «فضل» بیان ؤ. دلته د «عدل» ضابطه راښیی. یعنی د عدل اقتضاء دا ده هر سړی چه ښه یا بد عمل وکړی له هغه سره سم خپل بدل مومی. زیات له دی څخه د الله تعالیٰ فضل او کرم دی چه هغه تقصیرات ښښی یا ئی کومه درجه لوړوی (اوچتوی).

وَأَمْدَدْنَاهُمْ بِفَاكِهَةٍ وَلَحْمٍ مِمَّا يَشْتَهُونَ ﴿٢٢﴾

او مدد به وکړو مونږ له دوی سره په ورکولو د میوو (په هر وقت کښې) او د غوښو له هغه څیز چه د دوی زړه ئې غواړی.

**تفسیر:** یعنی هر راز (قسم) غوښې ئې چه زړه وغواړی او هره میوه ئې چه په زړه کښې وګرځی بې له ډیله او توقفه ورته حاضر او رسیږی.

يَتَنَازَعُونَ فِيهَا كَأْسًا لَّا لَغْوٌ فِيهَا وَلَا تَأْثِيمٌ ﴿٢٣﴾

یو له بله به اخلی دوی په دغه (جنت) کښې پیالې (د شرابو) چه نه وی چتې (بیکاره) ویل په هغې کښې او نه نسبت کول د ګناه یو بل ته.

**تفسیر:** یعنی کوم وقت چه د شراب طهور دوره وشی نو جنتیان به د خوش طبعی په ډول (طریقه) یو د بل له لاسه کاسې (ګلاسونه) سره اخلی. خو په دی پاکو شرابو کښې به یوائې خوند نشاط او مزه وی. نشه ـ چتی (بیکاره) خبری او اپلتی به نه وی او په هوش او عقل کښې څه نقصان او فتور نه ورپیښوی. او نه به ګناه کښې څه مرسته (مدد) کوی. او نه کومه بده پیښه ورځنی پیښیږی.

وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ لَّهُمْ كَأَنَّهُمْ لُؤْلُؤٌ مَّكْنُونٌ ﴿٢٤﴾

او چاپیر به ګرځی (دپاره د خدمت) پر دوی باندی غلامان ځنکیان د دوی ګواکې دغه (خدام په حسن او پاکی کښې) مرغلری پتی په غلاف کښې ساتلی شوی به وی.

**تفسیر:** یعنی لکه مرغلری پخپل پوښ (غلاف) کښې به بالکل پاک ـ صاف او شفاف وی. هیڅ دوړه ګرد او غبار نه ورته رسیږی. د دوی د پاکی او ستر حال به هم هم داسی وی.

وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ ﴿٢٥﴾ قَالُوا إِنَّا كُنَّا
قَبْلُ فِي أَهْلِنَا مُشْفِقِينَ ﴿٢٦﴾ فَمَنَّ اللَّهُ عَلَيْنَا وَوَقَانَا عَذَابَ
السَّمُومِ ﴿٢٧﴾ إِنَّا كُنَّا مِن قَبْلُ نَدْعُوهُ ۖ إِنَّهُ هُوَ الْبَرُّ الرَّحِيمُ ﴿٢٨﴾

او مخ به کړی ځینی د دوی ځینو نورو ته چه پوښتنی به سره کوی (له دنیوی مشقتونو څخه تشکراً) وبه وائی دوی چه بیشکه مونږ ړومبی له دی نه وو په اهل خپل کښی ویریدونکی (له عذابه). نو احسان وکړ الله پر مونږ باندی او وی ساتلو مونږ له عذاب د تودوخی ګرمی (د دوزخ) بیشکه مونږ وو مونږ پخوا له دی څخه (په دنیا کښی) چه عبادت به مو کاوه د دغه (الله) بیشکه چه دغه (الله) هم دی دی ډیر ښه احسان کوونکی خورا (ډیر) رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره).

**تفسیر:** یعنی جنتیان به په هغه وقت کښی یو د بل په لوری متوجه کیږی او خبری به سره کوی او د خورا (ډیر) مسرت او امتنان له سببه به یو بل ته داسی وائی «ورونو! مونږ په دنیا کښی له الله تعالیٰ څخه ویریدو! او په دی اندیښنی کښی تل اوسیدو چه وروسته له مړینی به په مونږ باندی څه راځی؟ د الله تعالیٰ دی احسان ته وګوریٔ! چه نن مونږ څومره ډاډه ـ مطمئن او مأمون یو چه د دوزخ یو تود باد او ورمه هم مونږ ته نه ده رسیدلی. مونږ له خپل الله تعالیٰ ویریدو او د هغه په مهربانی باندی مو هیله (امید) لرله او د هغه له یاده نه وو غافله او په ذکر او عبادت کښی ئی تل بوخت او لګیا ؤ دا دی چه هغه پر مونږ باندی ډیره مهربانی وفرمایله او ځمونږ دعاء ئی واوریده او له مونږ سره ئی ښه سلوک او احسان وفرمایه.

فَذَكِّرۡ فَمَآ أَنتَ بِنِعۡمَتِ رَبِّكَ بِكَاهِنٖ وَلَا مَجۡنُونٍ ﴿٢٩﴾

پس پند ورکوه ته (ای محمده! خلقو ته) پس نه ئی ته په سبب د فضل نعمت د رب خپل سره فال ګر (خبر ورکوونکی له غیبه) او نه مجنون ـ لیونی.

**تفسیر:** کفارو ځمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم کله لیونی ـ کله کاهن ـ کله له پیریانو او شیطانانو څخه خبری اوریدونکی باله او ویل به ئی چه دوی له هغوی څخه څه خبری اوری بیا له هغه سره نوری خبری ګدوی مګر بی عقلان په دی باندی نه پوهیدل چه تر اوسه پوری کوم یو کاهن ـ شاعر ـ یا لیونی داسی پندونه ـ او حکیمانه اصول او داسی خوږی خبری ـ او هسی ښی ویناوی کړی وی؟ نو ځکه الله تعالیٰ خپل حبیب صلی الله علیه وسلم ته وائی چه تاسی د هغوی له پوهولو څخه لاس مه اخلیٔ! او د خپل رسالت پندونو ته دوام ورکړیٔ! او د دوی له دی چټی (بیکاره) خبرو څخه مه خپه کیږیٔ! ځکه چه د الله تعالیٰ له فضل او کرم څخه نه تاسی لیونی نه کاهن یئ بلکه د هغه مقدس استاځی او رسول یی او نصیحت کول ستاسی منصبی فرض دی نو تل په هغه باندی دوام ولریٔ!

أَمۡ يَقُولُونَ شَاعِرٌ نَّتَرَبَّصُ بِهِۦ رَيۡبَ ٱلۡمَنُونِ ﴿٣٠﴾

آيا وائي دوی دی شاعر دی مونږ منتظر يو په ده باندی ګرد (تول) حوادثو د زمانی ته.

**تفسير:** يعني دغه پيغمبر صلی الله عليه وسلم چه دغو منکرينو ته د الله تعالیٰ خبری آوروی ـ او پندونه ورکوی آيا دا خلق ئی ځکه نه منی چه هغه محض شاعر ګڼی ـ او د دی خبری په انتظار کښې دی هسی چه د پخوانی زمانی ډير شاعران د زمانی په ګردش کښې مړه شوی دی دوی به هم مړی او دا خبری به سرېږی او په راتلونکيو زمانو کښې به هيڅ يو بری او کاميابی د دوی په لاس نه ورځی او دا يواځی د څو ورځو موقتی خبری دی او بس.

قُلۡ تَرَبَّصُواْ فَإِنِّي مَعَكُم مِّنَ ٱلۡمُتَرَبِّصِينَ ﴿٣١﴾

ووايه (ای محمده! دوی ته) منتظر اوسئ تاسی (هلاک ځما ته) پس بيشکه زه له تاسی سره له منتظرانو څخه يم (اهلاک د تاسی ته).

**تفسير:** يعني ښه دی تاسی ځما انجام ته ګورئ زه به ستاسی انجام ته ګورم ژر دی چه دا غوته به خلاصيږی نو دا به درښکاره شي چه څوک خائب او خاسر دی؟.

أَمۡ تَأۡمُرُهُمۡ أَحۡلَٰمُهُم بِهَٰذَآۚ أَمۡ هُمۡ قَوۡمٞ طَاغُونَ ﴿٣٢﴾

آيا امر حکم کوی دوی ته عقلونه د دوی په دی (کار) يا دوی يو قوم دی سرکښه شر خوښوونکی تيريدونکی له حده (جګړو او په عنادونو کښې).

**تفسير:** يعني پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته له ليونی ويلو څخه دا ښکاری چه ګواکی هغوی ډير پوهان او عقلمندان دی نو آيا د دوی عقل او پوه دا ورښيي چه ډير صادق ـ امين ـ پوه عاقل او په رښتيا پيغمبر ته شاعر ـ کاهن او ليونی ووائی او د هغه له ښوونی څخه سترګی واړوی که دوی د شاعرانو او پيغمبرانو د وينااو په منځ کښې څه فرق او توپير (امتياز) نه شي کولی نو دوی څرنګه پوهان او عقلمندان دی؟ مګر حقيقت خو دا دی چه دوی پخپلو زړونو کښې په ګردو (تولو) خبرو باندی په ښه شانی پوهيږی خو په ښکاره داسی چتی (بيکاره) خبری کوی او د شرارت چاری وراندی کوی.

أَمْ يَقُولُونَ تَقَوَّلَهُ ۚ بَل لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٣﴾ فَلْيَأْتُوا بِحَدِيثٍ مِّثْلِهِ إِن كَانُوا صَادِقِينَ ﴿٣٤﴾

آیا وائی دوی چه له ځانه ئی جوړ کړی دی ده دا (قرآن نه ده داسی) بلکه دوی ایمان نه راوړی (تکبراً عناداً) پس رادی وړی دوی یوه خبره (جوړه کړی شوی) په شان د دی (قرآن په فصاحت بلاغت کښی) که چیری وی دوی رښتینی په دی (وینا).

**تفسیر:** یعنی داسی خیال کوی پیغمبر صلی الله علیه وسلم هغه شیان چه آوروی هغه د الله تعالیٰ کلام نه دی بلکه هغه دی له خپله ځانه جوړوی او د هغه د دروغو خبرو نسبت الله تعالیٰ ته کوی. ځوک چه کومه خبره نه منی نو د هغی دپاره په زرهاؤ بهانی او پلمی (تدبیرونه) جوړوی. کوم سړی چه په یوی خبری باندی باور نه لری او زړه ئی نه کیږی چه یقین پری وکړی نو هم دا راز (قسم) بی سر او پښو احتمالات ورته راولیاسی. که ځوک وغواړی چه دا ښکاره خبره ومنی نو دومره خبره د هغه د منلو دپاره کافی ده چه د دنیا گرد (تول) طاقتونه که سره یو ځای شی نو د دی پاک قرآن په شان یو کتاب نشی راوړی لکه چه د الله تعالیٰ د ځمکی او د الله تعالیٰ د آسمان په شان بله ځمکه او آسمان جوړول ممکن نه دی هم داسی د دغه قرآن په شان بل کلام الله جوړول هم مشکل او محال دی.

أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ ﴿٣٥﴾ أَمْ خَلَقُوا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ ۚ بَل لَّا يُوقِنُونَ ﴿٣٦﴾

آیا پیدا کړی شوی دی دوی بی له یو شیز (خالق پخپل سر) یا که دوی پخپله پیدا کوونکی دی د ځانونو خپلو آیا پیدا کړی دی دوی آسمانونه او ځمکی (نه ده داسی خالق د تولو الله دی) بلکه یقین نه کوی دوی (او نه ئی منی چه ایمان راوړی په هغه باندی او بندگی وکړی د هغه).

**تفسیر:** یعنی دغه منکران د الله تعالیٰ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم خبری ولی نه منی؟ آیا په دوی باندی هیڅ یو هسی الله نشته چه د هغه حکم منل په دوی باندی لازم وی؟ آیا دوی پرته (علاوه) له کوم پیدا کوونکی څخه پخپل سر پیدا شوی دی؟ آیا دوی خپل ځان خدای گڼی؟

داسي خيال کوي چه آسمان او ځمکه د دوی جوړ کړي شيان دي؟ او ځکه په دي قلمرو کښي هر څه چه د دوی زړونه غواړي هم هغسي کوي او هيڅوک د دوی د مخي نيولو واک او اختيار نه لري. دا ګرد (ټول) خيالات باطل او مهمل دي. دوی هم پخپلو زړونو کښي ښه پوهيږي چه هرومرو (خامخا) الله تعالیٰ شته چه همغه پاک الله تعالیٰ د دوی او د ځمکي او آسمان پيدا کوونکي دی. مګر سره له دي علمه دوی له هغه ايمان او يقين څخه چه شرعاً مطلوب دی محروم او بي برخي دي.

أَمْ عِندَهُمْ خَزَآئِنُ رَبِّكَ أَمْ هُمُ الْمُصَيْطِرُونَ ﴿٣٧﴾

آيا له دوی سره دي خزاني (د نبوت نعمت) د رب ستا! آيا هم دوی دي واکداران (زوروران چه کوي هر کار پخپل سر بلکه دوی ټول د الله تعالیٰ تر حکم لاندي دي).

**تفسير:** آيا دوی داسي خيال کوي چه ځمکه او آسمان د الله تعالیٰ له جوړ کړيو شيانو څخه دي خو الله تعالیٰ د خپلو خزانو مالکان دوی ګرځولي دي يا د ده په ملک او خزانو باندي دوی په زور او تسلط سره قبضه کړي ده؟ نو دوی سره له دومره تسلط، تصرف او اقتدار څرنګه مطيع او منقاد کيدی شي؟.

أَمْ لَهُمْ سُلَّمٌ يَسْتَمِعُونَ فِيهِ ۖ فَلْيَأْتِ مُسْتَمِعُهُم بِسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿٣٨﴾

آيا شته دوی ته (اندرپايه چه پري خيژي آسمان ته او) اوريدل کوي په هغه باندي (خبري د ملائکو) پس را دي وړي هغه اوريدونکي د دوی يو برهان سند ښکاره (په صحت د اوريدلو د ده باندي).

**تفسير:** يعني آيا هغوی داسي دعوی کوي چه دوی پوړۍ (زينه) درولي پر آسمان باندي ختلي دي او هلته ئي له ملأ الاعلی څخه خبري اوريدلي دي کله چه دوی پخپل سر تر هغه درباره پوري رسيدی شي نو د بل چا متابعت ته اړ (محتاج) نه دي؟ څوک چه هسي دعوی کوي نو بسم الله رادي شي او خپل حجت ـ قاطع سند لامع برهان او بيان دي راوړاندي کړي. اوس په حماقت او جهالت د مشرکانو کښي فرمائي چه:

أَمْ لَهُ الْبَنَاتُ وَلَكُمُ الْبَنُونَ ﴿٣٩﴾

آیا هغه (الله) لره لونی دی (په زعم ستاسی) او تاسی لره ځامن دی.

**تفسیر:** یعنی آیا دغه منکران الله تعالیٰ له خپل ځان څخه ښکته ګڼی؟ معاذ الله لکه چه د دوی د لونو او ځامنو له ویشلو څخه راڅرګندیږی. نو ځکه د هغه د احکامو او هدایتونو په مخ کښی غاړه ایښودل د خپل شان کسر بولی.

أَمْ تَسْـَٔلُهُمْ أَجْرًا فَهُم مِّن مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُونَ ﴿٤٠﴾

آیا ته غواړی له دوی څخه (ای محمده!) څه اجر بدل پس دوی له تاوان (د هغه) درانه کړی شوی دی (او ځکه درڅخه تاووی مخ او نه مؤمنانیږی له عناده).

**تفسیر:** یعنی آیا دا خلق ځکه ستاسی خبری نه منی چه الله تعالیٰ دی نه کړی تاسی په ارشاد او تبلیغ باندی له هغوی څخه څه باره مزدوری او معاوضه غواړئ چه د هغه د دروندوالی لامله (له وجی) تور خوری.

أَمْ عِندَهُمُ ٱلْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُونَ ﴿٤١﴾

آیا په نزد د دوی (علم د) غیب دی نو دوی ئی لیکی (له هغه نه).

**تفسیر:** یعنی آیا پخپله الله تعالیٰ پر دوی باندی وحی لیږی او لکه پیغمبران دوی له خپلو اسرارو څخه خبروی چه دوی ئی لیکی لکه چه د انبیاؤ علیهم السلام وحی لیکلی کیږی نو ځکه دوی ستاسی پیروی ته څه ضرورت نه لری. بلکه نه ده دا خبره چه له دوی څخه علم د غیب وی بلکه دوی صرف ضد نیولی دی نو ځکه ایمان نه راوړی.

أَمْ يُرِيدُونَ كَيْدًا ۖ فَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ هُمُ ٱلْمَكِيدُونَ ﴿٤٢﴾

آیا اراده لری دوی د مکر کولو (او د چل په اهلاک د تا) پس هغه کسان چه کافران شوی دی هم په دوی باندی مکر کړی شوی دی (او خپله جزاء مومی).

**تفسیر:** یعنی له دغو پاسو خبرو څخه هیڅ یوه خبره نشته. نو بیا آیا داسی اراده لری چه له

پیغمبر سره فریب دروغ چل او مکر وکړی ـ او په خفیه ؤ تدابیرو په پټو غوتو سره حق مغلوب؟ یا ئې له منځه وباسی؟ که داسی وی نو په یاد ئې ولرئ چه هغه مکر ـ چل او فریب ګرد (تول) د هم دوی په غاړه کښې لویږی ژر به دوی ته دا څرګنده شی چه آیا حق مغلوب کیدونکی دی؟ که دوی پخپله له منځه وتونکی او فناء کیدونکی دی؟ بلکه حق خامخا غالب دی او پخپله هم دوی په هم دغه خپل کنستلی کوهی کښې لویږی.

---

أَمْ لَهُمْ إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ ۚ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٤٣﴾

---

آیا شته دوی ته کوم معبود بی له الله پاکی ده الله لره له هغه شی چه دوی ئې ورسره شریکوی (نور).

---

**تفسیر:** یعنی آیا بی له الله تعالیٰ بل کوم حاکم یا معبود ئې تجویز کړی دی چه د مصیبت په وقت کښې د هغوی مرسته (مدد) وکړی او د هغه عبادت دوی د الله تعالیٰ له عبادت څخه بی پروا کړی دی؟ نو په یاد ئې ولرئ چه دا ګرد (تول) اوهام او وساوس دی او د الله تعالیٰ ذات له ګردو (تولو) څخه پاک او د هغه هیڅوک شریک ـ مثیل ـ مقابل او مزاحم نشی کیدی.

---

وَإِن يَرَوْا كِسْفًا مِّنَ السَّمَاءِ سَاقِطًا يَقُولُوا سَحَابٌ مَّرْكُومٌ ﴿٤٤﴾

---

او که ووینی دوی یوه توټه له آسمانه رالویدونکی نو وبه وائی (دا) وریځ ده پریړه (غټه) یوه پر بلی باندی سوره شوی.

---

**تفسیر:** یعنی په حقیقت کښې له دوو خبرو څخه هیڅ یوه هم نشته. او یواځی یوه خبره ده چه هغه عناد او ضد دی او د هغه لامله (له وجی) دا خلق هره رښتیا خبره دروغ ګڼی ـ او د هغی په دروغ بللو باندی تینګ ولاړ دی ـ د دی خبری کیفیت دا دی که د دوی له غوښتنی سره سم د آسمان یوه توټه هم راولویږی او دوی هغه پخپلو سترګو سره هم ووینی نو بیا هم هغه ته خبری جوړوی او څه په څه تأویل په کښې کوی مثلاً وائی به چه دا د آسمان توټه نه ده بلکه د وریځی یوه پریړه (غټه) حصه ده چه منجمد شوی راولویده. لکه چه د کرل (یخ) لوئی دړی کله کله رالویږی. ښه نو د هسی متعصبو معاندانو د منلو او قبلولو هیله (امید) او توقع په څه دول (طریقه) کیدی شی؟.

---

فَذَرْهُمْ حَتَّىٰ يُلَاقُوا يَوْمَهُمُ الَّذِي فِيهِ يُصْعَقُونَ ﴿٤٥﴾

يَوْمَ لَا يُغْنِي عَنْهُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا وَّلَا هُمْ يُنْصَرُونَ ﴿۴۶﴾

نو پریږده دوی تر هغه پوری چه یو ځای شی دوی له ورځی خپلی سره هغه چه پکښی وبه لویږی پر دوی باندی تکه (تندر) (د بریښنا یا بی هوشه هلاک کړی شی) هغه ورځ چه وبه نه کړی دفع له دوی نه کید مکر د دوی هیڅ خیز (له عذابه د الله) او نه به له هغوی سره څه مدد مرسته (امداد) وکړه شی.

**تفسیر:** یعنی په هسی معاندینو پسی زیات لویدل دومره په کار نه دی. پریږدئ چه د څو ورځو له مخی لوبی وکړی او خبری جوړی کړی. آخر هغه ورځ راتلونکی ده چه د الله تعالیٰ د قهر بریښنا تکه (تندر) پری ولویږی او د دوی هوش او حواس والوځی. او د ژغورنی (نجات) هیڅ ترتیب به ئی په کار نه ورځی. نه له کوم لوری ورته مرسته (مدد) رسیږی. غالباً له دی څخه به قیامت مراد وی.

وَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا عَذَابًا دُونَ ذَٰلِكَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿۴۷﴾

او بیشکه هغو کسانو لره چه ظلم ئی کړی (کافران شوی) دی (اخروی) عذاب دی بی له دی (دنیوی) عذابه ولیکن زیاتره د دوی نه پوهیږی (نو ځکه مخ ګرځوی له ایمانه).

**تفسیر:** یعنی له دوی څخه زیاتره سری په دی خبر نه دی چه پرته (علاوه) له آخرته په دنیا کښی هم دوی ته یوه سزا او هیداد رسیدونکی دی ـ ښائی چه له دی څخه د بدر غزا او د نورو غزواتو سزاوی مراد وی.

وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا

او صبر کوه ته (ای محمده!) حکم د رب خپل ته بیشکه ته په ځای د لیدلو ځمونږ کښی ئی (او ساتو دی له اضراره).

**تفسیر:** یعنی له صبر او استقامت سره د خپل رب د تکوینی او تشریعی حکم انتظار وباسی چه ژر به ستاسی او د هغو په منځ کښی فیصله وکړی او تاسی ته به د مخالفینو له خوا هیڅ نقصان نه رسیږی ځکه چه تاسی ځمونږ د قدرت تر سترګو لاندی یئ! او ستاسی ساتنه او حفاظت ځمونږ د قدرت په غاړه دی!.

وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ حِيْنَ تَقُوْمُ ﴿٤٨﴾

او تسبیح وایه پیوست له حمده د رب خپل سره په هغه وقت کښې چه راپاڅیږې (له خوبه یا له مجلسه).

**تفسیر:** یعنی له صبر - تحمل - سکون او اطمینان سره تل د الله تعالیٰ په تسبیح - تحمید او عبادت کولو کښې مشغول اوسېږه! په تیره بیا کله چه له خوبه را پاڅیږې - یا لمانځه ته ودریږې! یا له مرکی څخه تشریف یوسې. په دی حالاتو کښې د تسبیح او تهلیل او د نورو اذکارو دیر ترغیب او تاکید شوی دی.

وَمِنَ الَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَإِدْبَارَ النُّجُوْمِ ﴿٤٩﴾

او په بعض د شپې کښې پس تسبیح وایه د دغه (الله) او د وروستو د ستوریو څخه (یعنی د شپې په آخره هم تسبیح وایه).

**تفسیر:** د شپې له دی برخی څخه ښائی چه د تهجد وقت مراد وی. او د ستوریو نه شا گرځولو وقت گهیځ (سحر) دی ځکه چه په دی مهال (وخت) کښې گرد (تول) ستوری د سحر په رڼا (رڼرا) کښې پټیږی.

**تمت سورة الطور ولله الحمد والمنة.**

سورة النجم مكية الاآية (۳۲) فمدنية وهى اثنتان وستون آية وثلث ركوعات
رقمها (۵۳) تسلسلهاحسب النزول (۲۳) نزلت بعد سورة الاخلاص.
د «النجم» سورت مکی دی - پرته (علاوه) د(۳۲) آیته څخه چه مدنی دی. (۶۲) آیته (۳) رکوع لری.
په تلاوت کښې (۵۳) او په نزول کښې (۲۳) سورت دی. وروسته د«الاخلاص» له سورته نازل شوی دی.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډير زيات مهربان پوره رحم لرونکی دی

وَالنَّجْمِ إِذَا هَوٰى ۝١ مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوٰى ۝٢

قسم دی په ستوریو باندی کله چه پریوځی (غروب وکړی یا راوخیژی طلوع وکړی) نه دی ګمراه شوی ملګری (رسول) ستاسی او نه ئی لاره ورکه کړی ده.

**تفسیر:** له «صاحب» او «رفیق» او ملګری شخه نبی کریم صلی الله علیه وسلم مراد دی. یعنی نه دوی د غلط فهمی لامله (له وجی) له لاری شخه وتلی دی او نه په خپل قصد او اختیار سره پوهیدلی بی لاری تللی دی - بلکه هم هغسی چه د اسمان ستوری له ختلو شخه نیولی تر پریوتلو پوری په یوه تاکلی (مقرر کړی) تګ او لاری باندی درومی او یوی خوا بلی خوا ته نه خوځیږی د نبوت لمر هم په همغه ډول (طریقه) د الله تعالیٰ په تاکلی (مقرر کړی) لاری باندی برابر ځی او هیڅری یوه او بل لوری ته نه ځی او نه امکان لری چه تری مخالفت وکړی او که یو قدم او یو پل دی خوا او هغی ته کوږ شی نو هغه غرض چه د دوی په بعثت پوری ترلی دی لاس ته نه راځی. انبیاء علیهم السلام هم د نبوت د آسمان ستوری دی چه د هغوی له رڼا (رنړا) شخه توله دنیا هدایت او لاره مومی. هسی چه د ستوریو له لویدلو شخه وروسته ځلیدونکی لمر راخیژی هم دا راز (قسم) د ګردو (تولو) انبیاؤ له تشریف وړلو شخه وروسته محمدی لمر د عربو له مطلع شخه راوخوت. نو کله چه قدرت د دی ظاهری ستوریو نظام دومره محکم جوړ کړی دی چه په هغوی کښی د هیڅ راز (قسم) تزلزل او اختلال ځای نشته نو ښکاره ده چه د دی باطنی ستوریو او روحانی لمر او سپوږمی انتظام به څومره مضبوط او محکم وی چه په هغوی پوری د تولی دنیا او نړی سعادت او هدایت ترلی دی.

وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوٰى ۝٣ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحٰى ۝٤

او خبری نه کوی (محمد) له هوا (خپلی) نه - نه دی دغه (قرآن) مګر وحی ده چه ورته لیږلی شوی ده.

**تفسیر:** یعنی مخالف عمل او کار چیری - د دوی له مبارکی خولی شخه داسی یو توری هم نه دی وتلی چه د دوی په نفسانی غوښتلو باندی مبنی وی. بلکه دوی هر هغه شی چه د دینی امورو په نسبت فرمایلی دی هغه د الله تعالیٰ رالیږلی وحی ده. او هغه ګرد (تول) د الله تعالیٰ له حکمونو سره سم ؤ. د دوی په منځ کښی متلو وحی ته قرآن او غیر متلو وحی ته حدیث وایه شی.

عَلَّمَهُ شَدِيدُ الْقُوَىٰ ﴿٥﴾ ذُو مِرَّةٍ ط

ښوولی ده ده ته د سختو قوتونو مالک (جبرئیل) چه خاوند د ښه قوت صورت عقل دی.

**تفسیر:** یعنی اصلی وحی لیږونکی الله تعالیٰ دی خو د هغه په وسیله چه دا وحی تر دوی پوری رسیږی او هغه چه په ښکاره ډول (طریقه) ده ته ښوونه کوی هغه د ډیرو قوتونو څیښتنه (خاوندہ) ـ خورا (ډیر) زوروره ـ حسینه ـ او وجیهه پرښته ده چه هغی ته «جبریل امین» وایه شی. لکه چه د (التکویر) په سورت کښی ئی هم د «جبریل امین» په نسبت فرمایلی دی. ﴿ إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ ۙ ذِي قُوَّةٍ عِندَ ذِي الْعَرْشِ مَكِينٍ ۙ مُّطَاعٍ ثَمَّ أَمِينٍ ﴾ الآیة ـ

فَاسْتَوَىٰ ﴿٦﴾ وَهُوَ بِالْأُفُقِ الْأَعْلَىٰ ﴿٧﴾

بیا برابر کیناست او هغه ؤ په کنارو لوړو (اوچتو) (له آسمانه).

**تفسیر:** له لوړو (اوچتو) کنارو څخه زیاترو مفسرینو شرقی افق مراد کړی دی چه له هغه ځایه سپیده داغ رابریښی نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته د بعثت په اول کښی یو ځلی حضرت جبریل امین پخپل اصلی صورت سره ورښکاره شو چه پر یوه کرسی باندی ناست ؤ. په هغه وقت کښی د آسمان یوه څنده (غاړه) تر بلی څندی (غاړی) پوری د هغه له وجود څخه ډکه ښکاریده او خورا (ډیره) لویه او ویروونکی په نظر راتله چه له دی امله (وجی) ځمونږ رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له دوی څخه وویرید نو د (مدثر) سورت نازل شو.

ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّىٰ ﴿٨﴾ فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَىٰ ﴿٩﴾ فَأَوْحَىٰ إِلَىٰ عَبْدِهِ مَا أَوْحَىٰ ﴿١٠﴾

بیا نژدی شو (جبریل محمد ته) پس ښه نژدی شو پس ؤ په منځ د نژدی والی د دوو لیندو یا ډیر نژدی له دی نه هم پس وحی وکړله (الله په ژبه د جبریل) بنده خپل ته هغه چه وحی ئی وکړه.

**تفسیر:** یعني جبریل علیه السلام سره له دی چه له خپل اصلي مستقر سره تعلق لری خو سره له هغه هم رابنکته شو او رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک ته دومره ورنژدی شو چه د دواړو په منځ کښی د دوو لاسو یا د دوو لیندو څخه زیاته فاصله نه وه پاتی په خپل هغه وقت کښی الله تعالیٰ پر خپل خاص بنده محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی وحی ورنازله کړه. غالباً له دی څخه د «المدثر» سورت دا آیتونه مراد وی ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُدَّثِّرُ قُمۡ فَأَنذِرۡ ﴾ الآیة - یا به نور احکام وی.

**تنبیه:** په ﴿ فَكَانَ قَابَ قَوۡسَيۡنِ أَوۡ أَدۡنَىٰ ﴾ کښی د محققینو په نزد (او) د شک دپاره نه دی بلکه داسی ترکیب په پوره تاکید او مبالغه سره د زیادت د نفی دپاره وی یعني په تاکلو (مقررولو) سره دا وربنوول مقصود نه دی چه د (قوسینو) فاصله ده که له هغه څخه هم لږ ؤ؟ هو! دومره وربنکارول مقصد دی چه په هیڅ حال او په هیڅ صورت له ده څخه زیاته فاصله نه وه په دی موضوع کښی نوری ډیری خبری هم شته چه د نورو مفسرانو له خوا لیکلی شوی دی.

## مَا كَذَبَ ٱلۡفُؤَادُ مَا رَأَىٰٓ ⑪

نه ؤ ویلی دروغ زړه (د محمد) هغه (جبریل) چه لیدلی ئی ؤ (په سترګو).

**تفسیر:** یعني محمد صلی الله علیه وسلم جبریل علیه السلام په خپلو سترګو سره ولید او زړه ئی ورته وویل چه په دی وقت کښی په زړه پوری هم هغسی چه ښائی ته جبریل علیه السلام ته وګوره او په دی کښی ته هیڅ غلطی نه کوی او د یوه شی په ځای بل شی په نظر نه درځی په دی ویلو کښی د ده زړه رښتین ؤ. حق تعالیٰ هم داسی د پیغمبرانو په زړونو کښی د پرښتو پیژندګلو اچوی او که په خپله رسول پر پرښتو باندی ډاډینه (اعتماد) ونه لری نو بل ته به په څه ډول (طریقه) ډاډینه (تسلی) ورکړی.

## أَفَتُمَٰرُونَهُۥ عَلَىٰ مَا يَرَىٰ ⑫

پس آیا تاسی جګړه کوئ له هغه (محمد) سره په هغه کښی چه ده لیدلی دی.

**تفسیر:** یعني وحی لیږونکی الله او وحی راوړونکی هسی پرښته ده چه د هغی صورت - سیرت - فهم - حفظ او نور صفات ګرد (تول) ښائسته او ښه او د هغی ګرد (تول) قوتونه کامل دی. او بیا داسی سره نژدی شول او وحی ئی ور ورسوله چه پیغمبر هغه پخپلو سترګو سره ولید او د هغه صاف او روڼ زړه د هغه تصدیق وفرمایه. نو آیا په هسی لیدلی شوی او ښه اوریدلی شوی څیز کښی تاسی لره د داسی چتی (بیکاره) او اپلتی خبری کولو څه حق شته؟ چه خامخا په کښی

فضول بحثونه او بیکاره جگړی او تکرارونه وکړئ.

**اذا لم تر الهلال فسلم لناس رأوه بالابصار**

ته چه میاشت په سترگو نه وینی وئی سپاره

هغه چاته چه ئی وینی په لیمو

وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰىۙ۝۱۳ عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى۝۱۴ عِنْدَهَا جَنَّةُ الْمَاْوٰىؕ۝۱۵

او خامخا په تحقیق لیدلی ؤ محمد هغه (جبریل) په راښکته کیدلو کښی بل ځلی په نزد د ونی د بیری سدرةالمنتهیٰ (چه منتها د علم د خلقو دی) په نزد د هغی دی جنت الماویٰ (یعنی ځای د هستوگنی د مؤمنانو).

**تفسیر:** حضرت شاه رحمة الله علیه لیکی «دوهم ځلی ئی جبریل علیه السلام پخپل اصلی صورت د معراج په شپه په اووم آسمان کښی د بیری له ونی سره ولید چه هغه د پورتنیو او ښکتنیو مخلوقاتو په منځ کښی ویش سرحد دی یعنی چه پاسنی خلق لاندی او ښکتنی خلق پورته نشی تلی او د هغه په خوا کښی جنت ئی هم وکوت.

**تنبیه:** څرنگه چه د جنت انگور ـ انار او نوری میوی له دنیوی میوو سره نه قیاس کیږی او یوائځی د نامه اشتراک د هغوی په منځ کښی شته هم داسی دا بیره هم د دنیوی بیرو سره نشی قیاس کیدی. دغه الله تعالیٰ ته ښه معلوم دی چه هغه بیره به څرنگه اونه وی لنده ئی دا چه هغه ونه د دی خوا او د هغی خوا په سرحد کښی ولاړه ده هغه اعمال احوال او نور چه له دی لوری خیژی او هغه احکام او امرونه چه له پاسه راښکته کیږی د هغو گردو (تولو) منتهیٰ هم دا اونه ده له گردو (تولو) روایتونو څخه داسی راووځی چه د دی ونی بیخ په شپږم آسمان کښی او ځانگی ئی تر اووم آسمان پوری غځیدلی دی والله اعلم.

اِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشٰىۙ۝۱۶

(لیدلی ؤ محمد جبریل لره) کله چه پټی کړی هغی ونی د بیری لره هغه څه چه پټ کړی ئی ؤ.

**تفسیر:** یعنی د حق تعالیٰ انوارو او تجلیاتو پر دی ونی باندی پلوشی اچولی وی او د پرښتو د

هجوم او کثرت دا حال ؤ چه د دی ونی له هری پانی سره یوه پرښته په نظر راتله. په ځینو روایاتو کښی راغلی دی چه (ما یغشی) طلائی پتنونه (پتنگان) دی یعنی ډیر ښه صورت لری چه د هغی په لیدلو سره زړه خوشیږی په دی وقت کښی د دی ونی د بهار او د سینگار او د هغی د حسن او جمال داسی یو حال دی چه هیڅ یو مخلوق د هغی صفت په الفاظو سره نه شی کولی ښائی د ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه او د نورو له خبرو سره موافق په معراج کښی د الله تعالیٰ لیدنه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته میسره شوی وی دا د هغه بیان د دی آیت په ابهام کښی منطوی او مندرج وی ځکه چه د پخوانیو آیتونو په نسبت د حضرت بی‌بی عائشی صدیقی په احادیثو کښی تصریح شوی ده چه له هغی شخه د پروردگار لیدل مراد نه دی بیواځی د جبریل علیه السلام رؤیت مراد دی. ابن کثیر له مجاهد شخه چه د ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه له خاصو اصحابو شخه دی تر دی آیت لاندی دا الفاظ لیکی **(کان اغصان السدرة لؤلوٴا ویاقوتا وزبرجداً فرآها محمد صلی الله علیه وسلم ورأی ربه بقلبه)** او دا رؤیت څرنگه چه یواځی په قلب سره نه بلکه په قلب او بصر یعنی دواړو سره حاصل شوی دی لکه چه له (مازاغ البصر) شخه ښکاره ده ښائی ځکه ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه د طبرانی په ځینو روایتونو کښی فرمایلی دی **(رآه مرتین مرة بقلبه ومرة ببصره)** دلته به له دوه ځلی لیدلو شخه دا مطلب وی چه په یوه وقت کښی ئی دوه ډوله ولید **(کما قالوا فی حدیث انشق القمر بمکة مرتین)** په ظاهری سترگو سره هم او د زړه په سترگو سره هم ولید شو لیکن په یاد دی وی چه دا هغه رویت نه دی چه د هغه نفی په ﴿لَاتُدۡرِكُهُ ٱلۡأَبۡصَٰرُ﴾ کښی کړی شوی ده ځکه چه له هغی شخه غرض د احاطی د نفی کول وی یعنی کتنه هغه نشی احاطه کولی برسیره په دی کله چه له ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه شخه پوښتنه وشوه چه د رؤیت دعوی د ﴿لَاتُدۡرِكُهُ ٱلۡأَبۡصَٰرُ﴾ له آیت شخه مخالفه ده نو وی فرمایل «**ویحک ذاک اذاتجلی بنوره الذی هو نوره ـ رواه الترمذی**» معلوم شوی دی چه د الله تعالیٰ انوار او تجلیات متفاوت دی ځینی انوار قهره للبصر دی ځینی داسی نه دی او د رؤیت الرب رؤیت فی الجملة په دواړو درجو باندی صادقیږی او ځکه ویل کیږی د رؤیت هغه درجه چه مؤمنانو لره په آخرت کښی په برخه کیږی هلته به کتنی داسی تیزی او تیری کیږی چه د هغی تجلی د لیدلو طاقت ولری چه هغه په دنیا کښی چاته نه حاصلیږی هو! یوه خاصه درجه رؤیت سیدنا محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د معراج په شپه کښی د ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه له روایت سره موافق میسر شوی دی چه په دی خصوصیت کښی هیڅوک له دوی سره شریک کیدی نشی او هم د دی انوارو او تجلیاتو تفاوت او تنوع په ملاحظه ویل کیږی چه د حضرت صدیقی بی‌بی عائشی او حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه په اقوالو کښی هیڅ تعارض نشته. کیږی چه حضرت صدیقه بی بی عائشه به د یوی درجی نفی کوی او حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه ئی په بلی کښی اثبات کوی او هم داسی د ابوذر رضی الله تعالیٰ عنه په روایاتو (رایت نورا) او (نورانی اراه) کښی هم تطبیق ممکن دی. **والله سبحانه وتعالیٰ اعلم**

مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغٰى ﴿۱۷﴾

نه وی کږځیدلی سترګی د (محمد بلې خوا ته) او نه دی تیری شوی (له حده).

**تفسیر:** یعنی هر هغه شی چه د محمد صلی الله علیه وسلم سترګو ولید په پوره تمکن او اتقان سره ؤ نه کتنه کږه شوی ده او نه ښی او کینی او ښکته او پورته خوا ته اوښتی ده او نه له مبصر څخه تجاوز کړی وړاندی تیر شوی دی پس په هغه شی باندی نښتی ؤ چه د هغه ښوونه منظور وه د باچاهانو په دربار کښی هر شی چه ورښوول کیږی د هغه نه لیدل او هغه شیان چه نه ورښوول کیږی د هغو په لیدلو پسی لویدل دواړه عیب دی حضرت محمد صلی الله علیه وسلم له دی دواړو څخه پاک ؤ.

لَقَدْ رَاٰى مِنْ اٰيٰتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰى ﴿۱۸﴾

خامخا په تحقیق لیدلی دی (محمد) له (ځینو) دلائلو (د قدرت) د رب خپل چه ډیر لوی ؤ.

**تفسیر:** د ﴿ اِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ ﴾ په تفسیر کښی هغه بیان چه شوی دی برسیره په هغه باندی هغه نور شیان چه لیدلی او اوریدلی ئی وی هغه الله تعالیٰ ته ښه معلوم او ښکاره دی.

اوس څوک توان لری چه وپوښتی بڼ وال بیا
بلبل څه وویل ګل واوریدل څه څه وکړل سبا؟
اکنون کرا دماغ که پرسد زباغبان
بلبل چه گفت گل چه شنید وصباچه کرد؟

اَفَرَءَيْتُمُ اللّٰتَ وَالْعُزّٰى ﴿۱۹﴾ وَمَنٰوةَ الثَّالِثَةَ الْاُخْرٰى ﴿۲۰﴾

آیا پس وینئ تاسی لات او عزیٰ او منات (په مرتبه کښی) دریم بل له دغو (یعنی دغه بتان بیخی بیکاره شیان دی).

**تفسیر:** یعنی د هغه الله تعالیٰ په مقابل کښې چه د هغه عظمت او جلال لره حد او اندازه نشته د دی سپکو او ناولو شیانو له نوم اخیستلو څخه شرم په کار دی.
**تنبیه:** «لات ـ عزیٰ ـ مناة» د هغې زمانې د کفارو د بتانو او باطلو معبودانو نومونه دی. د دوی له منځه (لات) د طائفیانو په نزد ډیر معظم ؤ. او (مناة) د اوس او خزرج او خزاعه په نزد او (عزیٰ) د قریشو او بنی کنانه او نورو په نزد دومره لوی معزز ؤ چه له هغو دوو ړومبنیو څخه ئی ده ته عزت ورکاوه. او (عزیٰ) چه په مکه معظمه کښې نخلی ته نژدی ؤ بیا (لات) چه په طائف کښې ؤ بیا له دوی څخه وروسته په دریمه درجه (مناة) ؤ چه له مکې څخه لری او مدینې ته نژدی ؤ. علامه یاقوت رحمة الله علیه په معجم‌البلدان کښې هم دا ترتیب نقل کړی لیکی چه قریشو د کعبې شریفې د طواف په وقت کښې داسې ویل « **اللات والعزیٰ ومناة الثالثة الاخریٰ ـ هٰؤلآء الغرانیق العلیٰ وان شفاعتهن لترتجیٰ**» په ځینو تفاسیرو کښې پر دی ځای کښې یوه قصه نقل کوی چه د محدثینو د جمهورو له اصول سره د صحت تر درجې پورې نه رسیږی. او که فی الواقع هغه لره کوم اصل هم وی نو شائی هم دا به وی چه ځمونږ رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په هسې جرګه کښې چه د مسلمانانو او کافرانو لوئی ډلې پکښې ګډې وډې او مخلوطې ناستې وی دا سورت ئی ولوست. او د کفارو دا عادت ؤ چه د قرآن د لوستلو په وقت کښې به ئی هسې شورماشور لګاؤ چه تر څو ئی څوک وانه وری لکه چه الله تعالیٰ د حٰمٓ السجدة په څلورمه رکوع کښې فرمائی ﴿ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَسْمَعُوْا لِهٰذَا الْقُرْاٰنِ وَالْغَوْا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُوْنَ ﴾ کله چه حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم دا سورت ولوست کوم شیطان کافر خپل غږ د دوی له غږ سره یو ځای کړی د دوی په لهجه او د وینا په تقلید سره به ئی هغه الفاظ ویلی وی چه د ګردو (تولو) کافرانو په ژبو سواره ؤ نو ځکه د (**تلک الغرانیق العلیٰ** الخ) له الحاق څخه له دی آیتونو سره او له دی تصرف څخه چه په تعبیر او اداء کښې شوی وی د هغو کفارو په زعم مطلب بالکل اوښتی دی او له ذم څخه (معاذ الله) مدحې ته رسیدلی دی که نه ښکاره خبره ده چه د نبی پر ژبه شیطان کله دومره تسلط لری او دا څرنګه امکان لری؟ د هغه شی ابطال چه وروسته راځی نو د هغه صفت مخکښې څه معنی لری؟.

---

## أَلَكُمُ الذَّكَرُ وَلَهُ الْأُنثَىٰ ﴿٢١﴾ تِلْكَ إِذًا قِسْمَةٌ ضِيزَىٰ ﴿٢٢﴾

آیا تاسی لره (ای کفارو) هلکان دی او دغه (الله) لره لونی دی دا (قسمت د اولاد) په دی شان قسمت دی ډیر کوږ ناکاره.

---

**تفسیر:** یاقوت په (معجم البلدان) کښې لیکی چه کافرانو دا بتان د الله تعالیٰ لونی بللی خو اول الله هغه لوی ذات دی چه صفت ئی په ﴿ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُوْلَدْ ﴾ سره شوی دی او بالفرض که د اولاد تقسیم هم وماته شی نو دا تقسیم څومره خراب او بیکاره دی چه تاسی خپلو ځانونو ته هلکان

او الله تعالیٰ ته لونی ورکوئ (العیاذ بالله).

إِنْ هِيَ إِلَّآ أَسْمَآءٌ سَمَّيْتُمُوهَآ أَنتُمْ وَءَابَآؤُكُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلْطَٰنٍ

نه دی (دا بتان) مگر خو تش نومونه دی چه ایښی دی تاسی دوی لره تاسی او پلرونو ستاسی نه دی نازل کړی الله په دغه (عبادت د بتانو) باندی کوم برهان ـ علمی سند.

**تفسیر:** یعنی په تیرو (گتو) او ونو باندی یو څه نوم پړدی چه د هغوی پر خدائی باندی کوم برهان او علمی سند نه لری بلکه د هغوی پر خلاف دلائل قائم دی هغوی ته تاسی پخپلو خیالونو کښی که د الله تعالیٰ لونی یا د هغه هلکان یا بل شی وایئ دا گردی (تولی) چتی (بیکاره) او د خولی خبری دی چه هیڅ صحیح نه دی او نه څه حقیقت لری.

إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَمَا تَهْوَى ٱلْأَنفُسُ ۖ وَلَقَدْ جَآءَهُم مِّن رَّبِّهِمُ ٱلْهُدَىٰٓ ﴿٢٣﴾

متابعت نه کوی دوی مگر خو د گمان خپل او د هغه شی چه غواړی ئی نفسونه د دوی او خامخا په تحقیق سره راغلی دی دوی ته له ربه د دوی څخه هدایت لار ښوونه.

**تفسیر:** یعنی سره له دی چه د الله تعالیٰ له خوا د هدایت رڼا (رڼرا) راغلی ده او سمه لاره ئی راښوولی ده مگر دا ناپوهان د هم هغو اوهامو په توره تیاره کښی سره نښتی دی. هغه گمانونه چه د وړوکی په شان د دوی خیال ته رسیږی او هغه آرزو او هیله (امید) او خبره چه د دوی په زړونو کښی گرځی سم د لاسه هم هغسی کوی له تحقیق او بصیرت سره د دوی هیڅ علاقه ـ ارتباط او سروکار نشته.

أَمْ لِلْإِنسَٰنِ مَا تَمَنَّىٰ ﴿٢٤﴾ فَلِلَّهِ ٱلْـَٔاخِرَةُ وَٱلْأُولَىٰ ﴿٢٥﴾

آيا شته (کافر) انسان لره هغه چه غواړي ئې (له نبوت او اخروی سعادت ؟ بلکه نشته!) پس خاص الله لره دی (سلطنت او باچائی د) آخرت او د دنيا.

**تفسير:** يعنى هسى اتكل او گمان كوى چه دا بتان به ځمونږ سپارښت كوى دا خو تش خيال او تشى آرزوګانى دى آيا هر هغه تمنا او آرزو چه سړى ئې وكړى هغه ئې په لاس ورځى په ياد ئې ولرئ چه د دنيا او آخرت گردى (تولى) ښيگڼى (فائدى) د الله تعالىٰ په لاس كښى دى.
حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليكى يعنى د بتانو عبادت ځخه ستاسى لاس ته څه ورځى گته (فائده) همغه ده چه د الله تعالىٰ له لورى ئې سړى مومى.

وَكَمْ مِّن مَّلَكٍ فِي السَّمٰوٰتِ لَا تُغْنِي شَفَاعَتُهُمْ شَيْـًٔا إِلَّا مِنۢ بَعْدِ أَن يَأْذَنَ اللّٰهُ لِمَن يَشَآءُ وَيَرْضٰى ﴿۲۶﴾

او ډيرى دى له ملائكو ځخه په آسمانونو كښى چه نه دفع كوى شفاعت سپارښت د دوى هيڅ شي مگر وروسته له هغه چه اذن حكم وفرمائى الله دپاره د هغه چا چه اراده وفرمائى او راضي وى په شفاعت ئې.

**تفسير:** يعنى د دى بتانو حقيقت څه دى د آسمانى هستيدونكيو د مقربو پرښتو شفاعت او سپارښت هم هيڅ په كار نه راځى. هو! د هر چا په حق كښى چه پاك الله د سپارښت كولو حكم وكړى هغه د كار شي دى او هغه له هر چا ځخه چه خوښ وى همغه گټور دى. ښكاره ده چه هغه نه بتانو ته د سپارښت كولو اذن وركړى دى او نه دى له كافرانو ځخه خوښ دى.

إِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْاٰخِرَةِ لَيُسَمُّونَ الْمَلٰٓئِكَةَ تَسْمِيَةَ الْأُنثٰى ﴿۲۷﴾ وَمَا لَهُم بِهِۦ مِنْ عِلْمٍ ۖ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ ۖ وَإِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِي مِنَ الْحَقِّ شَيْـًٔا ﴿۲۸﴾

بيشكه هغه كسان چه ايمان نه راوړى په آخرت باندى خامخا نومونه ږدى پر ملائكو باندى په نوم اېښودلو د ښځو سره او نشته دوى ته په دى وينا كښى هيڅ علم پوه متابعت نه كوى دوى مگر خو د گمان او بيشكه گمان نه دفع

کوی له حق څخه هیڅ شی.

**تفسیر:** هر څوک چه په آخرت باندی یقین او باور نه لری هغه له سزا او هیداد څخه بیفکره کیږی او په داسی بیباکی او بیفکری کښی اخته کیږی چه الله تعالیٰ ته بد نسبتونه کوی او مثلاً وائی چه پرښتی ښځی او د هغه لونی دی دا محض د دوی جهالت او ناپوهی ده څکه چه پرښتی له نارینتوب او ښځیتوب سره هیڅ تعلق او علاقه نه لری. او الله تعالیٰ به څرنګه اولاد ولری؟ که څوک په رښتیا او تینګو خبرو باندی قائم وی نو په داسی ګمانونو اتکلونو او اوهامو او چتی (بیکاره) خبرو پسی چه هیڅ کار ورڅخه نه جوړیږی نه ګرځی. او آیا داسی اتکلونه او تخمینات د ثابته ؤ حقائقو قائم مقام کیدی شی؟

فَأَعْرِضْ عَنْ مَّنْ تَوَلّٰى عَنْ ذِكْرِنَا وَلَمْ يُرِدْ اِلَّا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴿۲۹﴾
ذٰلِكَ مَبْلَغُهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ ۭ

پس مخ وګرځوه ته له هغه چا څخه چه مخ ئی ګرځولی دی له ذکره زمونږ او نه لری اراده مګر خو د ژوندون لږ خسیس دا (اختیارول د ده دنیا لره) ځای د رسیدلو د دوی دی له علمه پوهه (د دوی).

**تفسیر:** یعنی د هر چا برستن او نالی چه د دنیا دا څو ورځی ژوندون دی او په هغه کښی هسی منهمک شی چه الله تعالیٰ او آخرت ور څخه هیر وی او هیڅ خپل فکر ورته نه نیسی نو تاسی د دوی اپلتو او چتی (بیکاره) خبرو ته زیات مه متوجه کیږئ! هم هغسی چه هغوی له الله تعالیٰ څخه مخ اړوی تاسی هم د هغوی له شرارت او بدی څخه مخ واړوئ! په پوه باندی څو مو دوی پوهولی دی ولی هغوی ځان پری نه پوهوی. نو له بدطینتو سریو څخه د حق منلو توقع لرل او د هغوی په فکر او غم کښی خپل ځان پخول او ویلی کول بیکاره دی. د دوی فکر فقط د هم دی دنیا فوری نفع او نقصان ته رسیږی. له دی څخه وړاندی د هغوی فکر نه رسیږی. دوی څه پوهیږی چه وروسته له مړینی د حقیقی مالک په دربار کښی حاضریږی او د ذری ذری شمیر ورکوی. د دوی علمی جداوجهد یواځی د بهائمو په شان د ګیدو ډکول او د شهوت شړل دی. پرته (علاوه) له نفسانی او شهوانی غوښتنو څخه بل شی ته نه متوجه کیږی.

اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيْلِهٖ ۙ وَهُوَ اَعْلَمُ بِمَنِ اهْتَدٰى ﴿۳۰﴾

بیشکه رب ستا هم دی ښه عالم دی په هغه چا باندی چه ګمراه شوی دی له

لاری د ده څخه (چه اسلام دی) او هم دی ښه عالم پوه دی په هغه چا باندی چه سمه لاره ئی موندلی ده.

**تفسیر:** یعنی هغه چه په ګمراهی کښی پروت دی او هغه چه په سمی لاری باندی رهی (روان) دی دوی ټول سره د هغوی د مخفی استعداداتو له ازل راهسی پاک الله ته معلوم او الله تعالیٰ پری ښه خبر دی. او سم له هغه سره هر کار کیدونکی دی. هر څومره زیار (کوشش) چه وویستل شی پرته (علاوه) له هغه څخه بل کوم شی نه کیږی برسیره پر هغه الله تعالیٰ پخپل محیط علم سره له هر یوه سره د هغه له احوالو سره سمه او برابره معامله کوی. نو ځکه تاسی ځان یوی خوا ته ونیسی او د هغو معاندینو معامله الله تعالیٰ ته خوشی کړئ او ور وئی سپارئ.

وَلِلّٰهِ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الْاَرْضِ ۙ لِيَجْزِىَ الَّذِيْنَ اَسَاۗءُوْا بِمَا عَمِلُوْا وَيَجْزِىَ الَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا بِالْحُسْنٰى ۝

او خاص الله ته دی هر هغه څه چه په آسمانونو کښی دی او هر هغه چه په ځمکه کښی دی (سره له آسمانونو او ځمکی ملکاً و خلقاً و عبیداً) (پیدایښت) لپاره د دی دی چه جزاء ورکړی (الله) هغو کسانو ته چه بدی ئی کړی وی په (سبب) د هغه (بد) عمل چه کړی ئی وی او جزاء ورکړی هغو کسانو ته چه نیکی ئی کړی وی په نیکو (اعتقادونو او ښو) عملونو سره (په جنت).

**تفسیر:** یعنی د هر سری احوال الله تعالیٰ ته ښه معلوم دی. او د ځمکی او د آسمان پر هر شی باندی د هغه واک (اختیار) او قبضه ده. بیا نو د ښو او د بدلو په بدل ورکولو کښی د هغه په مخ کښی څه ممانعت موجود کیدی شی. بلکه که په غور سره وګورئ نو ځمکه او د آسمان دا ګردی (ټولی) کارخانی د هم دی دپاره پیدا کړی شوی دی چه د هغو په نتیجه کښی د ژوندون یوه بله غیر فانی سلسله قائمه کړه شی تر څو په هغی کښی بدانو ته د هغوی د بدی او نیکانو ته د هغوی د نیکی بدل ورکړ شی.

اَلَّذِيْنَ يَجْتَنِبُوْنَ كَبٰۗىِٕرَ الْاِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ اِلَّا اللَّمَمَ ۭ

(نیکوکاران) هغه کسان چه ځان ساتی له کبائرو لویو ګناهونو څخه او له فواحشو قبیحو کارونو څخه مګر وړی وړی ګناه (لکه نظر کول حرامو ته او

نور د دی پشان ښېنل کیږی له جانبه د الله په سبب د اجتناب له کبائرو نه).

**تفسیر:** د صغیری او کبیری گناه فرق د نساء د سورت په تفاسیرو کښی په تفصیل سره تیر شوی دی. د ( لمم) په تفسیر کښی څو خبری شته. ځینی وائی هغه خیالات او چرتونه دی چه د گناه په نسبت په زړونو کښی گرځی خو له قوی څخه فعل ته نه وځی هغه لمم دی. ځینی له هغه څخه صغیره گناه مراد اخلی. ځینی وائی هغه گناه چه په کولو باندی ئی اصرار نه کوی. یا ئی خپل عادت ونه گرځوی. یا هغه گناه چه توبه ورځنی وکړی مراد دی. ځمونږ په نزد دیر ښه تفسیر همغه دی چه محقق شیخ الهند رحمة الله علیه د (النساء) د سورت په تفاسیرو کښی لیکلی دی. مگر دلته ئی په ترجمه کښی د نورو معانیو گنجائش هم پری ایښی دی.

إِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ

بیشکه رب ستا واسع (فراخ کوونکی د ښښنی او) د مغفرت دی.

**تفسیر:** نو ځکه له دیرو وړو گناهونو څخه تیریږی او توبه قبلوی او گنهگاران نه مأیوس کوی. که په هره لویه او وړوکی گناه باندی ئی پوښتنه کولی نو د امید ځای به چیری پاتی کیده.

هُوَ أَعْلَمُ بِكُمْ إِذْ أَنشَأَكُم مِّنَ الْأَرْضِ وَإِذْ أَنتُمْ أَجِنَّةٌ فِي بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ فَلَا تُزَكُّوا أَنفُسَكُمْ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقَىٰ ﴿٣٢﴾

هغه ښه عالم دی په تاسی باندی کله چه پیدا ئی کړئ تاسی له ځمکی څخه او کله چه وئ تاسی (پټ) بچی په گیدو د میندو خپلو کښی نو مه ستایئ مه پاکوئ تاسو ځانونه خپل (چه ستایئ به ځانونه خپل) هم دغه (الله) ښه عالم دی. په هغه چا باندی چه ویریږی (له الله او ځان ساتی له معاصیو).

**تفسیر:** یعنی که د تقویٰ څه توفیق الله تعالیٰ چاته ورکړی نو دی دی لوئی نه کوی! او خپل ځان دی نه ستائی! ځکه چه پاک الله د هر سړی له لوئی او پاکی او تقویٰ نه په ښه شان خبردار دی. او له هغه وقته ورښکاره ده چه دوی لا د دی وجود او شتوالی په دائره کښی قدم او پل نه ؤ ایښی. هر سړی لره ښائی چه خپل اصل او ماهیت دی نه هیروی. د چا ابتداء چه له خاورو څخه شوی وی او بیا ئی د مور د گیدی په تیاره کښی له ناولی وینی څخه خواړه موندلی وی او په هسی ځای کښی پاللی شوی وی او وروسته له هغه څخه له نورو دیرو روحانی او جسمانی

کمزوریو سره مخامخ شوی وی په پای (آخر) کښې که الله تعالیٰ د خپل فضل او کرم له مخې هغه ته یو لوړ (اوچت) مقام وروبښي او هسک (اوچت) لوړ ځای ته دی ورسوی نو هغه ته نه ښائي چه په هغه باندی لوئي وکړی. او ځان د هغه لوی مقام مستحق وبولی هغه کسان چه په حقیقت سره متقیان دی نو هغوی له هسی دعوی کولو څخه شرمیږی. او په دی باندی ښه پوهیږی چه په پوره ډول (طریقه) له ګردو (تولو) کمزوریو څخه ځان ساتل د بشریت له قوت څخه بهتر دی. لږ تر لږه څه ناولیتوب په هر یوه کښې شته پرته (علاوه) له هغو څخه چه د الله تعالیٰ له لوری ساتلی شوی وی.

أَفَرَءَيْتَ الَّذِي تَوَلَّىٰ ﴿٣٣﴾

آیا پس لیدلی دی تا هغه څوک چه مخ ئی واړاوه (له ایمانه او مرتد شو).

**تفسیر:** یعنی خپل اصل ئی هیر کړ او د خپل اصلی خالق او حقیقی مالک له لوری ئی مخ واړاوه.

وَأَعْطَىٰ قَلِيلًا وَأَكْدَىٰ ﴿٣٤﴾

او ور ئی کړ لږ شی (له مقرره مال څخه) او منع ئی کړل نور (او سخت پری تینګ شو).

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «یعنی لږ څه ایمان ئی راوړ بیا ئی زړه کلک شو». مجاهد رحمة الله علیه او نور لیکی چه دا آیت د ولید بن مغیره په باره کښې نازل شوی دی چه هغه څمونږ د پیغمبر لږ څه خبری واوریدی او د اسلام په لوری ئی لږ څه رغبت پیدا شو او د کفر له سزا څخه ویریده نژدی ؤ چه مسلمان شی چه یوه کافر ورته وویل داسی مه کوه! چه زه ستا ګرد (تول) جرائم پخپله غاړه اخلم او ستا له لوری ګرده (توله) سزا زه به ځان تیروم په دی شرط سره چه لږ څه مال ماته راکړی. هغه دا خبره ومنله او د مقرر شوی رقم څه قسط ئی هم ور ورساوه او بیا ئی انکار وکړه نو په دی صورت سره د ﴿ وَأَعْطَىٰ قَلِيلًا وَأَكْدَىٰ ﴾ معنی به داسی کیږی چه څه مال ئی ورکړ او بیا ئی لاس وویست.

أَعِندَهُۥ عِلْمُ الْغَيْبِ فَهُوَ يَرَىٰ ﴿٣٥﴾

آیا شته له ده څخه علم د پټو (خفی شیانو) پس دی وینی (نجات خپل).

**تفسیر:** یعنی آیا دا د غیب خبر ئی لیدلی دی چه هغه ته به د کفر سزا نه رسیږی؟ او بل سری به پخپل ځای ودروی او په رښتیا سره به دی خلاصیږی؟.

أَمْ لَمْ يُنَبَّأْ بِمَا فِي صُحُفِ مُوسَىٰ ﴿٣٦﴾ وَإِبْرَاهِيمَ الَّذِي وَفَّىٰ ﴿٣٧﴾

آیا نه دی خبر کړی شوی دی په هغه (شی) چه ؤ په صحیفو پانو د موسیٰ کښی او (په صحیفو پانو) د ابراهیم کښی هغه (ابراهیم) چه وفاء ئی کړی وه (په احکامو د الله).

**تفسیر:** یعنی ابراهیم علیه السلام پخپله وینا او عهد او پیمان باندی پوره تینګ ولاړ ؤ. او د الله تعالیٰ ګرد (تول) احکام ئی په ځای کړل او د هغه د احکامو په تعمیل کښی ئی لږ څه تقصیر هم ونه کړ.

أَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ﴿٣٨﴾

(په صحف مذکوره ؤ کښی دا دی) چه نه پورته کوی هیڅ نفس پورته کوونکی بار پیتی د بل نفس.

**تفسیر:** یعنی د موسیٰ او د ابراهیم علیهما السلام په صحیفو کښی داسی مضمون ؤ چه د الله تعالیٰ په مخکښی یو مجرم د بل مجرم پیتی نشی اخیستی. او هر یو سری خپل سؤال او جواب او ښه او خراب پخپله غاړه اخلی.

وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ ﴿٣٩﴾

او بله دا چه نشته هیڅ انسان لره مګر (جزاء د هغه شی) چه کړی ئی دی.

**تفسیر:** یعنی سری چه هر څه پخپل زیار او کوشش سره ګټی هغه د ده دی. او هیڅوک د بل نیکی او بدی نشی اخیستی. پاتی شوه دا خبره که څوک پخپله خوښه خپل ځینی حقوق بل ته وربښی او د الله تعالیٰ منظور شی. دا بیله خبره ده چه د هغه تفصیل له حدیث او فقهی څخه معلومیدی شی.

وَأَنَّ سَعْيَهُ سَوْفَ يُرَىٰ ﴿٤٠﴾ ثُمَّ يُجْزَاهُ الْجَزَاءَ الْأَوْفَىٰ ﴿٤١﴾

او بیشکه (دا چه) جزا د سعی عمل د ده ژر ده چه وبه ښوولی شی (ده ته) بیا به جزاء ورکړی شی هغه ته جزاء پوره بدل ښه (د نیکی نیکه ـ د بدی بده).

**تفسیر:** یعنی د هر چا سعی او کوشش به د هغه په مخ کښی کیښوود شی او د هغه پوره پوره بدل به ورکاره کیږی.

وَأَنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ الْمُنْتَهَىٰ ﴿٤٢﴾

او بیشکه (دا چه) رب ستا ته ده انتهاء د ګردو (تولو) (مخلوقاتو پس له مرګه چه ورځی ورته لپاره د جزاء).

**تفسیر:** یعنی د ګردو (تولو) علومو او افکارو سلسله او د وجود انتهاء د الله تعالیٰ په لوری کیږی او تول شیان په پای (آخر) کښی هغه الله تعالیٰ ته رجوع او ورتګ کوی او د ده له مخی به هر چا ته د هغه د ښو او بدو ثمره ورکوله کیږی.

وَأَنَّهُ هُوَ أَضْحَكَ وَأَبْكَىٰ ﴿٤٣﴾ وَأَنَّهُ هُوَ أَمَاتَ وَأَحْيَا ﴿٤٤﴾ وَأَنَّهُ خَلَقَ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْأُنْثَىٰ ﴿٤٥﴾

او (دا چه) بیشکه همغه (الله) خندوی او ژړوی او بیشکه همغه (الله) وژنی او ژوندی کوی او (دا چه) بیشکه همغه (الله) پیدا کړی ئی دی جوړی نر او ښځه.

**تفسیر:** یعنی په دی نړی (جهان) کښی ګرد (تول) متضاد او متقابل احوال هغه لوی ذات پیدا کړی دی. د شر او د خیر خالق همغه الله تعالیٰ دی. د خوښی او د غم کیفیات د هغه په لاس کښی دی ـ خندول ـ ژړول ـ لار ښوول ـ ګمراه کول ـ ژوندی کول او مړه کول ـ نر او ښځه پیدا کول او د دوی په شان نور شیان تول د دی خالق د کون و مکان له کارونو څخه دی.

مِن نُّطْفَةٍ إِذَا تُمْنَىٰ ﴿٤٦﴾ وَأَنَّ عَلَيْهِ النَّشْأَةَ الْأُخْرَىٰ ﴿٤٧﴾

له يوه څاڅکي اوبو د (منى) څخه کله چه وڅڅاوه شي (په رحم کښې) او (دا چه) بيشکه په ده باندې دي پيدا کول د دوهم ځلې (پس له مرګه).

**تفسير:** يعنى هغه ذات چه له يوه څاڅکي اوبو څخه ئى نر او ښځه پيدا کرى دى نو هغه ته بيا پيدا کول څه مشکل دى د يوه پيدايش له ښوولو څخه ئى په بل پيدايش باندى هم تنبيه وفرمايله.

وَأَنَّهُ هُوَ أَغْنَىٰ وَأَقْنَىٰ ﴿٤٨﴾

او (دا چه) بيشکه همغه (الله) غنى کوى او خزانى ورکوى (يا خواروى).

**تفسير:** يعنى مال ـ خزانه ـ جايدادونه تول د هغه ښښنه دى. ځينى د (اقنىٰ) معنى (افقر) اخلى يعنى هغه ځينى غنى کوى او ځينى فقير اکرب کوى دا معنى له رومبنى سياق سره مناسبه ښکارى ـ ځکه چه د متقابلو شيانو ذکر له اول تر اخر پورى راغلى دى او که اول مطلب واخيست شى نو د هغه په مقابل کښى ښائى چه اهلاک کيښود شى چه ذکر ئى وروسته راځى يعنى خزانى ـ مال او دولت هغه ورکوى او زياتوى ئى او همغه دير لوى دولتمندان او طاقتوران اقوام او تبرونه تباه او بربادوى.

وَأَنَّهُ هُوَ رَبُّ الشِّعْرَىٰ ﴿٤٩﴾

او (دا چه) بيشکه هم هغه (الله) رب د شعرى دى

**تفسير:** «شعرى» يو لوى ستورى دى چه ځينو له اعرابو به د هغه عبادت کاوه او داسى ئى ګڼانه چه د عالم په پيښو او احوالو کښى هغه دير تأثير او اغيزه (اثر) لرى دلته دا راښکاروى چه د «شعرى» رب هم الله تعالىٰ دى او د دنيا ګردى (تولى) پيښى او لاندى باندى او نور د ده د قدرت په لاس او واک (اختيار) کښى دى بى وځلى (شعرى) هم لکه يو معمولى مزدور د هغه احکامو په ځاى راوړلو کښى زيار (کوشش) کوى او په هغه کښى کوم مستقل تاثير او اغيزه (اثر) هيڅ نشته.

وَأَنَّهُ أَهْلَكَ عَادًا الْأُولَىٰ ﴿٥٠﴾

او (دا چه) بيشكه همغه (الله) وژلی هلاک کړی دی عاديان ړومبی.

**تفسير:** يعنی د حضرت هود عليه السلام قوم.

وَثَمُودَاْ فَمَآ اَبْقٰى ﴿٥١﴾ وَقَوْمَ نُوْحٍ مِّنْ قَبْلُ ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا هُمْ اَظْلَمَ وَاَطْغٰى ﴿٥٢﴾

او (هلاک کړی ئی دی) ثموديان پس باقی ئی پری نه ښود بل هيڅوک (له هغوی نه) او (هلاک کړی ئی دی) قوم د نوح پخوا له دوی نه بيشکه چه دوی ؤ هم دوی ډير ظالمان او ډير سرکشان.

**تفسير:** يعنی تر سلهاؤ کلونو د الله تعالیٰ رسول حضرت نوح عليه السلام ته ئی هسی ډير سخت ضررونه او ايذاوی رسولی چه د هغو له ويلو څخه د هر سړی زړه خوږيږی او راتلونکيو لره ئی بده لاره وبرانيستله.

وَالْمُؤْتَفِكَةَ اَهْوٰى ﴿٥٣﴾ فَغَشّٰىهَا مَا غَشّٰى ﴿٥٤﴾

او هغو کليو اړوليو شويو لره ئی ښکته راوغورځول (ځمکی ته پس له پورته کيدو نه) پس راولويد په هغه باندی هغه څه چه راولويد (يا پس پټ ئی کړه هغه څه چه پټ ئی کړل).

**تفسير:** يعنی د تيږو (ګټو) باران او وريا ئی پری وکړه دا د لوط عليه السلام د قوم يادونه ده.

فَبِاَيِّ اٰلَاۗءِ رَبِّكَ تَتَمَارٰى ﴿٥٥﴾

پس په کومو نعمتونو د رب خپل شک کوی ته (ای کافره انسانه؟).

**تفسير:** يعنی د داسی مفسدانو ـ ظالمانو ـ او باغيانو تباه کول او له منځه لری کول او ورک کول هم د الله تعالیٰ ډير لوی انعام او ښېنه ده. آيا د داسی نعمتونو له ليدلو څخه وروسته هم انسان خپل الله تعالیٰ دروغجنوی.

هٰذَا نَذِيْرٌ مِّنَ النُّذُرِ الْاُوْلٰى ﴿٥٦﴾

دغه (محمد رسول الله هم) ویروونکی دی له (جملی د) ویروونکیو ړومبنیو څخه.

**تفسیر:** یعنی حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د مجرمانو د بد انجام څخه هم داسی ویرول کوی لکه چه له دوی څخنی وړاندی نورو پیغمبرانو هم کفار ویرول.

أَزِفَتِ الْآزِفَةُ ﴿٥٧﴾ لَيْسَ لَهَا مِن دُونِ اللَّهِ كَاشِفَةٌ ﴿٥٨﴾

رانژدی شو راتلونکی (قیامت) نشته هغه لره پرته (علاوه) له الله ښکاره کوونکی (راوستونکی).

**تفسیر:** یعنی قیامت ډیر نژدی شوی دی خو د هغه تاکلی (مقرر) وقت پرته (علاوه) له الله تعالیٰ بل چاته په ښکاره ډول (طریقه) نه دی معلوم او کله چه تاکلی (مقرر) وقت ئی راشی نو هیڅ یو طاقت هغه نشی ستنولی (واپس کولی) که الله تعالیٰ اراده وفرمائی د هغه په دفع باندی قادر دی ـ خو هغه ئی هم نه لری کوی.

أَفَمِنْ هَٰذَا الْحَدِيثِ تَعْجَبُونَ ﴿٥٩﴾ وَتَضْحَكُونَ وَلَا تَبْكُونَ ﴿٦٠﴾ وَأَنتُمْ سَامِدُونَ ﴿٦١﴾

آیا پس له دی خبری (قرآن) څخه تعجب کوئ تاسی (انکاراً ای منکرانو) او خاندئ تاسی (تمسخراً) او نه ژاړئ (خوفاً) او تاسی غافلان یئ (له هغه شی چه مطلوب دی تاسی ته) چتی (بیکاره) لوبی کوئ.

**تفسیر:** یعنی قیامت او د هغه نژدیوالی د خبر له اوریدلو څخه بایده ؤ چه تاسی د الله تعالیٰ له ویری په ژړا کیدئ او ویریدئ او د خپلی ژغورنی (نجات) تیاری به مو کاوه. مګر تاسی په خلاف د هغه تعجب کوئ او خاندئ او په غفلت او بیفکری کښی په چتی (بیکاره) لوبو کښی اخته یی.

فَاسْجُدُوا لِلَّهِ وَاعْبُدُوا ۩ ﴿٦٢﴾

پس سجده کوئ تاسی (خاص) الله ته او عبادت کوی د هم دغه (الله نه د نورو).

**تفسیر:** یعنی یو عاقل او یوه لره نه ښائی چه له انجامه غافل شی ـ او په پند ـ نصیحت او پوهولو باندی توکی او مزاح وکری او پری وخاندی بلکه ښائی چه د بندگی لاره غوره کړی! او مطیع او منقاد اوسی! د عاجزی او نیاز وچولی (تندی) د الله تعالیٰ په دربار کښی کیږدی!
**تنبیه:** په روایتونو کښی راغلی دی چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم کله چه د (النجم) سورت ولوست دی پخپله هم په سجده پریوت او نورو گردو (تولو) مسلمانانو او مشرکانو هم چه هلته حاضر ؤ سجده وکړله. حضرت شاه ولی الله قدس سره لیکی چه «په دی وقت کښی پر گردو (تولو) باندی د الهٰی یوه غنشیه راښکته شوه او په یوه غیبی او قهری تصرف سره تولو طوعاً او کرهاً سرونه په سجده کیښودل یوائحی یو بدبخت چه په زړه کښی ئی سخت مهر ؤ سجده ئی ونه کره خو له ځمکی څخه ئی لږ څه خاوره پورته کره او پر هغی باندی ئی خپل وچولی (تندی) کیښود او وی ویل چه ماته دومره کافی دی.

## تمت سورة «النجم» ولله الحمد والمنة

سورة القمر مکية الا الآيات (٤٤) و (٤٥) و (٤٦) فمدنية وهی خمس وخمسون آية وثلٰث رکوعات رقمها (٥٤) تسلسلهاحسب النزول (٣٧) نزلت بعد سورة «الطارق».
د «القمر» سورت مکی دی ماسواء له (٤٤) ؤ (٤٥) ؤ (٤٦) آیاتونو څخه چه مدنی دی (٥٥) آیته دری رکوع
لری په تلاوت کښی (٥٤) او په نزول کښی (٣٧) سورت دی وروسته د «الطارق» له سورت څخه نازل شوی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ①

رانژدی شو قیامت او څیری دوه توتی شوه سپوږمی.

**تفسیر:** له هجرت څخه پخوا رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په (منا) کښی تشریف درلود (لرلو)

ـ د کافرانو یوی لوئی جرگی له دوی څخه یوه معجزه وغوښته ـ دوی وفرمایل چه د آسمان په لوری وګورئ! ناڅاپه سپوږمی له منځه دوه توتی شوه یوه توته ئی د لمرخاته په لوری ـ او بله توته ئی د لمر پریوتو په لوری لاړه په منځ کښی ئی غر حائل ؤ ـ کله چه د کافرانو جرگی دا لویه معجزه ولیده سره ئی وویل چه «محمد صلی الله علیه وسلم پر مونږ یا پر سپوږمی باندی سحر جادو کوډی کړی دی». دغی معجزی ته (شق القمر) وائی او دا یوه نمونه یا نښه وه د قیامت چه وروسته له دی څخه به هر شی لکه دا شلیږی او چوی طحاوی او ابن کثیر او نورو د دی واقعی د تواتر دعوی کړی ده او له کوم عقلی دلیل سره تر اوسه پوری د هسی واقعاتو محال کیدل نه شی ثابت کیدی ـ او یوازی د استبعاد په بناء باندی داسی قطعی الثبوت شیان نه شی تردید کیدی. بلکه استبعاد خو اعجاز لره لازم دی. ورځنیو واقعاتو ته څوک معجزه ویل شی؟ ځمونږ هغه مستقل مضمون دی وکوت شی چه په «المحمود» کښی د معجزاتو او خوارق العاداتو په نسبت خور شوی دی. پاتی شوه دا خبره که (شق القمر) واقع شوی وی نو په تواریخو کښی ولی هغه نشته! په یاد ئی ولرئ چه دا قصه د شپی ده نو په ځینو ملکونو کښی د مطالعو د اختلاف په سبب په دی وخت کښی ورځ وه او په ځینو ځایونو کښی نیمه شپه او خلق به اوده ؤ او که ځینی وی او په خلاصه هوا کښی ناست وی او هر چیری اسمان هم صاف او شین وی نو عادتاً دا ضروری نه ده چه هغوی تول د آسمان په لوری هسی وګوری چه هیڅ سترګی ئی له سپوږمی ځینی په بل لوری وا نه وړی. که پر ځمکی باندی د سپوږمی رڼا (رنړا) وی او آسمان هم شین وی نو د هغی د دوو توتو کیدلو څخه د هغی په رڼا (رنړا) کښی کوم محسوس فرق او توپیر (تفاوت) نه څرګندیږی. برسیره په دی دا قصه د څو ربو (ثانیو) پیښه وه. مونږ وینو چه ډیر ځلی د سپوږمی تندر (خسوف) پیښیږی او تر ډیر وقت پوری ځندیږی (ورډیږی) ولی په ملیونو انسانان نه پری خبریږی په تیره بیا چه په هغی زمانی کښی لکه نن غونډی رصدخانی او نور آلات او ادوات هم نه ؤ او نه دومره مکمل او وسیع انتظامات او نه د تقاویمو ـ جنتریګانو زیادت ؤ او نه دومره اشاعت ؤ. په هر حال د دی معجزی نشتوالی په غربی تاریخونو کښی د دی د تکذیب دلیل نشی کیدی او په شرقی تواریخو کښی د دی معجزی ذکر شته. په هندوستان کښی د (مالیبار) د مهاراجی د اسلام سبب هم دا واقعه شوی ده.

وَإِن يَرَوْا آيَةً يُعْرِضُوا وَيَقُولُوا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ ﴿٢﴾

او که ووینی دغه (کفار د قریشو) کوم دلیل (د قدرت) نو پر څنګ به شی دوی (مخ به واړوی) تری او وائی به دوی (دغه) سحر کوډی دی قوی چه له پخوا راهیسی راځی.

**تفسیر:** یعنی پخوا له دی هم د نبوت دعوی کوونکیو د داسی سحر او کوډو دعاوی کړی دی

هم هغسې چه هغه تللي دي ـ دا به هم ځي.

وَكَذَّبُوا وَاتَّبَعُوا أَهْوَاءَهُمْ وَكُلُّ أَمْرٍ مُسْتَقِرٌّ ﴿٣﴾

او دروغجن کوي دوی (حق لره) او متابعت کوي دوی د خواهشونو خپلو او هر کار قرار نيوونکي دی (سره له کوونکي خپل په نعيم يا جحيم کښې).

**تفسير:** يعنې د هغوی عذاب هم په خپل وقت باندې راتلونکی دی او هغوی لره هغه هلاک او گمراهي چه د الله تعالیٰ په علم کښې تاکلې (مقرر) شوې ده هيڅ وړاندې وروسته کيدونکې نه ده.

وَلَقَدْ جَاءَهُمْ مِنَ الْأَنْبَاءِ مَا فِيهِ مُزْدَجَرٌ ﴿٤﴾

او خامخا په تحقيق راغلي دي دوی ته خبرې د اهلاک د پخوانيو امتونو هغه شي چه په هغه کښې امتناع سرزنش ؤ (له کفره).

**تفسير:** يعنې د قرآن کريم په وسيله هر راز (قسم) احوال او د تباه شويو قومونو واقعات دربښکاره شوی دی که په هغو باندې غور وکړئ نو د الله تعالیٰ له لوری لويه تنبيه او ويښول دی. راغلي دي دغو منکرانو ته دغسې پند چه:

حِكْمَةٌ بَالِغَةٌ فَمَا تُغْنِ النُّذُرُ ﴿٥﴾ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ

حکمت دی کامل نهايت ته رسيدلی پس هيڅ نفع نه رسوي (دوی ته) ويرونکي (انبياء قرآن مواعظ) نو مخ وگرځوه ته له هغوی څخه.

**تفسير:** يعنې قرآن مجيد د پوره عقل او حکمت د خبرو مجموعه ده که څوک ئې په ښه نيت او پوره توجه سره ولولي نو په زړونو کښې ئې ځای نيسي او په کښې لويږي مگر د افسوس ځای دلته دی چه سره د دومره لار ښوونې او د هدايت د اسباب د شتو بيا هم دوی هدايت نه مومي او په سمه لاره نه راځي او هيڅ يو نصيحت او پوهول په دوی باندې خپل اثر نه اچوی هومره چه دوی وپوهوی هم هغسې چه په تيږو (گټو) کښې موږی (ميخ) نه ننوځي پند هم د هغوی په زړونو کښې کار نه کوی نو څکه د هسې غتو زړونو او سنگدلو بدبختانو په فکر کښې دير زيات مه اوسئ تاسې د خپل تبليغ فرض او د دعوت وظيفه او دنده په ښه شان او سلوک سره ادا

وفرمایی ـ اوس نو د زیات تعاقب ضرورت نشته پرېږدئ چه هغوی د خپلی هستوګنی د ځای په لوری ور درومی.

يَوْمَ يَدْعُ الدَّاعِ إِلَىٰ شَيْءٍ نُّكُرٍ ﴿٦﴾

(او یاده کړه هغه) ورځ چه راوبولی (دوی لره) بلونکی یو شی ناآشنا ته (چه حساب او جزاء د اعمالو ده).

**تفسیر:** یعنی د حشر د ډګر (میدان) په لوری د شمیر (حساب) ورکولو دپاره.

خُشَّعًا أَبْصَارُهُمْ

حال دا چه ویریدونکی خړی خواری به وی سترګی د دوی.

**تفسیر:** یعنی په هغه وقت کښی به ئی د خوف او ندامت لامله (له وجی) په ډیر ذلت او ندامت سره سترګی ځوړی او مری وی او له ډیره شرمه به ځمکی ته ګوری.

يَخْرُجُونَ مِنَ الْأَجْدَاثِ كَأَنَّهُمْ جَرَادٌ مُّنتَشِرٌ ﴿٧﴾ مُّهْطِعِينَ إِلَى الدَّاعِ

رابه وځی دوی له قبرونو څخه ګواکی دوی به ملخان مچان وی خواره واره چه تلوار کوونکی به وی په لوری د بلونکی خپل.

**تفسیر:** یعنی ګرد (ټول) ړومبنی او وروستنی خلق به له خپلو قبرونو څخه ووځی او د مچانو په دول (طریقه) سره به په ځمکه کښی تیت پیت او خواره شی. او د الله تعالیٰ په مخ کښی به د خپلو چارو د جزاء دپاره په ډیر تلوار سره حاضرېږی.

يَقُولُ الْكَافِرُونَ هَٰذَا يَوْمٌ عَسِرٌ ﴿٨﴾

وائی به کافران دا ورځ ده ډیره سخته.

**تفسير:** يعني د هغې ورځې د ويرونكيو احوالو او شدائدو لامله (له وجې) او د خپلو جرائمو له تصوره به كفار داسېووائي چه دا بده سخته ورځ ده! وبه ليده شي چه نن به څه راباندې تيرېږي. وروسته دا راښيي چه قيامت او د آخرت عذاب پخپل وقت باندې راتلونكي دى. ډيرو دروغجنانو ته له هغه څخه پخوا په دنيا كښې هم يوه سخته ورځ په مخ راغلې ده.

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ فَكَذَّبُوا عَبْدَنَا وَقَالُوا مَجْنُونٌ وَازْدُجِرَ ⑨

دروغجن كړې دي پخوا له دوى څخه قوم د نوح نو دروغجن كړ دوى بنده ځمونږ او وې ويل چه (دغه نوح) ليونى دى او منع كړى شوى دى (له دعوت د خلقو نه).

**تفسير:** كفارو به تهديداً ويل اى نوحه كه ته له خپلو هسې خبرو نه اوړې نو مونږ به دې تر ډبرو (ګټو) لاندې خښ كړو! ګواكې په داسې ويرولو سره ئې د هغوى خبرو ته غوږ نه نيو او د ده خبرې په توى تللې. ځينې د ﴿وَازْدُجِرَ﴾ معنى داسې كوى چه ليونى يا بادسار يا رنځور دى او سد (هوش) او عقل ترې ورك دى. (العياذ بالله).

فَدَعَا رَبَّهُ أَنِّي مَغْلُوبٌ فَانْتَصِرْ ⑩

پس دعا سؤال وكړ (نوح) له ربه خپله (داسې چه) بيشكه زه مغلوب عاجز شوى يم نو بدل مې واخله (له كفارو).

**تفسير:** يعني له سلهاؤ كلونو پوهولو سره هم كله چه څوك د دوى په خبرو باندې ونه پوهيدل نو دوى هغوى ته ښيرې وفرمايلې او وې ويل «آلويه څيښتنه (خاونده) ! زه اوس د دوى له لاسه ښوونې څخه عاجز شوى يم. پر دوى باندې ځما هدايت او لار ښوونې هيڅ اغيزه (تاثير) او اثر ونه كړ. اوس نو ته د خپل دين او پيغمبر بدل او كسات واخله! او پر ځمكه باندې هيڅ يو كافر ژوندى مه پريږده !».

فَفَتَحْنَا أَبْوَابَ السَّمَاءِ بِمَاءٍ مُنْهَمِرٍ ⑪ وَفَجَّرْنَا الْأَرْضَ عُيُونًا فَالْتَقَى الْمَاءُ عَلَى أَمْرٍ قَدْ قُدِرَ ⑫

نو وړانیستل مونږ ورونه د آسمان په اوبو ډیرو راتوئی شویو سره (له آسمانه) او وبهولی مونږ له ځمکی څخه (هم) چینی بیا سره ګډی شوی تولی اوبه (د آسمان او د ځمکی) په هغه کار باندی چه تاکلی مقرر شوی ؤ (چه اهلاک د قوم د نوح ؤ).

تفسیر: یعنی اوبه داسی سختی راوشړیدی لکه چه د آسمان ګرد (تولو) ورخونه خلاص شوی وی او لاندی د ځمکی تولی اوبه هم له یوی مخی د باندی راوخوتیدلی او دومره زیاتی اوبه راووتی لکه چه د ځمکی مخ د لویو چینو یوه مجموعه شوه، بیا د لاندی او د باندی او دا دواړه اوبه سره ګډی شوی د هغه کار دپاره حاضری شوی چه د الله تعالیٰ له خوا لا پخوا له هغه تاکلی (مقرر) شوی ؤ. یعنی د نوح علیه السلام د قوم تباهی ـ هلاکت او دوبیدل.

وَحَمَلْنٰهُ عَلٰى ذَاتِ اَلْوَاحٍ وَّدُسُرٍ ﴿١٣﴾ تَجْرِىْ بِاَعْيُنِنَا

او سور کړی وو مونږ دغه (نوح) پر (بیړی چه) خاوند د تختو پلنو او میخونو پریږو (غتو) وه چه تلله ګرځیده په ځای د لیدلو د سترګو ځمونږ.

تفسیر: یعنی د دی ویروونکی طوفان په وقت کښی د نوح علیه السلام بیړی ځمونږ تر کتنی حفاظت او نګرانی لاندی وه. او په ډیره هوسائی (راحت) او آرامی سره د اوبو په سر ګرځیده.

جَزَآءً لِّمَنْ كَانَ كُفِرَ ﴿١٤﴾

(واقع شوی ؤ دا طوفان) لپاره د امداد د هغه چا چه کفران د احسان ئی کړی شوی ؤ (چه نوح دی).

تفسیر: یعنی کفارو د نوح علیه السلام بی قدری وکړه او د الله تعالیٰ د خبری له منلو څخه ئی مخ واړاوه. دا وه د هغه سزا او انتقام چه د لوی طوفان او سخت څپان په ډول (طریقه) وروړسیده.

وَلَقَدْ تَّرَكْنٰهَآ اٰيَةً فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿١٥﴾

او خامخا په تحقیق پریښودله مونږ دغه (بیړی) یو دلیل (د قدرت خپل) نو آیا شته څوک یادوونکی پند اخیستونکی.

**تفسیر:** یعني فکر کوونکی لره په دی واقعي کښې د قدرت ډیر دلائل او د عبرت زیاتی نښی دی یا ئې دا مطلب چه نن د کشتي وجود په دنیا کښې هغه قصه را په یادوی او د الله تعالیٰ د لوی قدرت لویه نښه ده ځینې وائي چه عیناً همغه د نوح علیه السلام کشتي تر ډیری مودی پوری پاتي او د (جودی) پر غره باندی پرته وه تر دی چه د دی امت د خلقو تر سترګو هم تیره شوی وه. والله اعلم.

فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿١٦﴾

پس څرنګه ؤ عذاب ځما (په دوی چه می هلاک کړل ټول په طوفان) او ویرول (ځما په ژبې د نوح).

**تفسیر:** یعني ځما عذاب ئې ولید چه څومره ویروونکی دی او ځما ډارول څومره په ځای او رښتیا دی.

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿١٧﴾

او خامخا په تحقیق آسان کړی دی مونږ قرآن دپاره د یادولو او پند اخیستلو نو آیا شته څوک یادوونکی پند اخیستونکی.

**تفسیر:** یعني له قرآنه پند اخیستل ډیر آسان دی ځکه هغه مضامین چه د ترغیب ـ ترهیب ـ انداز ـ تبشیر او نورو په نسبت دی هغه ګرد (ټول) بالکل صاف ـ سهل ـ ساده او آسان او مؤثر دی او دومره سهل او صاف دی چه هر سړی په لږ فکر او غور سره پری پوهیږی.
**تنبیه:** د آیت مطلب دا نه دی چه قرآن یواځې یو سطحي او معمولي کتاب دی. او دقائق ـ حقائق او غوامض پکښې نشته ځکه چه د هغه علیم ـ خبیر د کلام په نسبت به هسې اټکل او ګمان څوک وکړی شي؟ آیا داسی دی فرض کړ شي کله چه پاک الله له خپلو بندګانو سره خبری کوی نو معاذ الله له خپلو لایتناهي علومو څخه بالکل جلا (جدا) کیږی؟ او ساده خبری کوی؟ یقیناً د ده په کلام کښې هسی ژور حقائق او دقائق شته چه د هغو لټول د نورو په خبرو کښې چټی (بیکاره) او عبث دی. نو ځکه په حدیث کښې راغلي دی «**لاتنقضي عجائبه** د قرآن عجائب او اسرار له سره ختم کیدونکی نه دی» د دی امت علماء او د دی ملت حکماء د دی پاک کتاب د دقائقو او اسرارو په نسبت او د هغو د خبایاؤ په لټولو او د زرهاؤ احکامو استنباط په شاؤ خوا کښې خپل عمرونه صرف کړی دی خو سره له هغه هم د هغه پای (آخر) او

انتهاء ته نه دی رسیدلی.

كَذَّبَتْ عَادٌ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿١٨﴾ إِنَّا أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا
صَرْصَرًا فِي يَوْمِ نَحْسٍ مُّسْتَمِرٍّ ﴿١٩﴾

دروغجن کړی ؤ عادیانو (هود) نو څرنګه ؤ عذاب ځما او ویرول ځما بیشکه مونږ لیږلی ؤ مونږ پر دوی باندی باد ډیر سخت په ورځی نحسی (د بدی) کښی چه تل وی بدی ئی (پر دوی باندی چه په کښی اهلاک شو).

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب لیکی «یعنی بدی او نحوست پورته نه شو تر څو ګرد (تول) سره تمام نه شول او دا د نحوست ورځ هغوی لره وه نه تل» هغه ورځی منحوسی ګڼلی کیږی ـ لکه چه په ناپوهانو کښی مشهوره ده. که هغه ورځ د عذاب د راښکته کیدلو په نسبت تل منحوسه وګڼله شی نو کومه ورځ به بختوره وګڼله شی. په قرآن کریم کښی تصریح ده چه هغه عذاب اووه شپی او اته ورځی پرله پسی وو. اوس نو وښیئ چه په دی تقدیر د اونی (هفتی) کومه ورځ به له نحوسته تشه وی؟

تَنزِعُ النَّاسَ كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ مُّنقَعِرٍ ﴿٢٠﴾

چه را ایستل به (باد له پتو ژورو کندو د ځایونو خپلو نه) خلق ګواکی دوی تنی د خرماؤ وی چه له بیخه را ایستلی شوی په ځمکه پریوتلی وی.

**تفسیر:** د عاد قوم ډیر پیاوړی (بهادر) قوی او د لویو جثو او ونو (قد) خاوندان ؤ خو دوی د دی سخت باد او د لویی سیلئ له ورښه داسی سر په ځت راولویدل لکه چه د کجورو ونی چه له سته او بیخه وویستلی شی او هغه خوا وغورځولی شی.

فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٢١﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ
لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٢٢﴾ كَذَّبَتْ ثَمُودُ بِالنُّذُرِ ﴿٢٣﴾

نو څرنګه ؤ عذاب ځما او ویرول ځما (له بیخه ایستل می) او خامخا په

تحقیق آسان کړی دی مونږ قرآن ذکر پند اخیستلو ته نو آیا شته څوک یادوونکی پند اخیستونکی دروغجن کړی ؤ ثمودیانو (انبیاء او نور) ویروونکی.

**تفسیر:** یعنی حضرت صالح علیه السلام ئی دروغجن کړ او حال دا دی چه د یوه نبی دروغجن کول عیناً د ټولو پیغمبرانو دروغجن بلل دی ځکه چه د دین په اصولو کښی دوی ګرد (ټول) یو د بل مصدقان او مؤیدان دی.

فَقَالُوٓا أَبَشَرًا مِّنَّا وَاحِدًا نَّتَّبِعُهُۥٓ إِنَّآ إِذًا لَّفِى ضَلَٰلٍ وَسُعُرٍ ﴿٢٤﴾

پس وویل دوی آیا یو بشر لره له مونږ څخه چه یو دی متابعت وکړو (مونږ چه ډیر یو) ده لره بیشکه مونږ په دغه وقت کښی خامخا به یو په ګمراهی او لیونتوب کښی (نو نه ئی کوو متابعت).

**تفسیر:** یعنی دغه خو کومه آسمانی پرښته نه دی بلکه مونږ غوندی یو سړی دی هغه هم یو بیکس او یواځی چه هیڅ یو قوت او ملګری ورسره نشته دی غواړی چه مونږ راښکته او د خپل ځان تابع وګرځوی او حال دا دی چه دا کار له سره هیڅ کیدونکی نه دی که مونږ د ده په خبرو باندی وغولیږو او د ده په لومه کښی بند شو نو دغه به ځمونږ سخته غلطی او ناپوهی ـ حماقت څرګند کړی بلکه دا کار به له لیونتوب سره سم وی هغه مونږ ویروی چه که تاسی ځما دا خبری ونه منئ نو په اور کښی لویږئ او ځمونږ په نزد په اور کښی لویدل دا دی چه مونږ د ده خبرو ته غوږ کیږدو او تابع ئی وګرځو.

ءَأُلْقِىَ ٱلذِّكْرُ عَلَيْهِ مِنۢ بَيْنِنَا بَلْ هُوَ كَذَّابٌ أَشِرٌ ﴿٢٥﴾

آیا غورځولی شوی دی ذکر وحی په ده باندی په منځ ځمونږ کښی (نه ده شوی وحی) بلکه دی ډیر دروغجن متکبر دی (چه پخپله ځان غټوی).

**تفسیر:** یعنی پیغمبری ته د نورو خلقو په منځ کښی یواځی هم دغه پاتی ؤ؟ ګردی (ټولی) خبری ئی دروغ دی! خامخا ځان لوی راښیی! تکبر کوی او وائی چه زه د الله تعالیٰ له لوری استاځی او پیغمبر یم! او ګرد (ټول) قوم ته ښائی چه ځما خبری ته غوږ کیږدی او اطاعت می وکړی او حکم می ومنی! نو تردیداً فرمائی الله اکرم شانه واعظم برهانه داسی چه:

سَيَعْلَمُونَ غَدًا مَّنِ ٱلْكَذَّابُ ٱلْأَشِرُ ﴿٢٦﴾

ژر ده چه پوه به شي دوی صباح (په وقت د نزول د عذاب کښې یا په ورځ د قیامت کښې) چه څوک دی هغه ډیر دروغجن متکبر.

**تفسیر:** یعني ډیر ژر معلومیږی چه د دی دواړو په منځ کښې دروغجن او متکبر څوک دی؟

إِنَّا مُرْسِلُوا النَّاقَةِ فِتْنَةً لَّهُمْ

بیشکه مونږ لیږونکی یو د اوښې دپاره د فتنې ازمویښت د دوی.

**تفسیر:** یعني د هغوی له غوښتنې سره سم مونږ له تیږی (ګټی) څخه اوښه را وویسته او ور ومو لیږله او د هغې په وسیله مو دا په عملي ډول (طریقه) هم ښکاروله چه له هغوی څخه کوم یو د الله تعالیٰ او د هغه د رسول خبری مني؟ او کوم یو د خپل نفس په غوښتنې کار کوی؟

فَارْتَقِبْهُمْ وَاصْطَبِرْ ﴿٢٧﴾ وَنَبِّئْهُمْ أَنَّ الْمَآءَ قِسْمَةٌ بَيْنَهُمْ كُلُّ شِرْبٍ مُّحْتَضَرٌ ﴿٢٨﴾

پس منتظر اوسه ته (ای صالح!) دوی ته او صبر وکړه (یعني وګوره! چه څه نتیجه راوځی؟) او خبر کړه دوی (په دی) چه بیشکه اوبه ویشلي شوی په منځ د دوی (او د اوښې) کښې هر وار د اوبو ته حاضر کړی شوی دی (خاوندان د اوبو پخپل وار).

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب لیکي هغه اوښه به په هر وار چه اوبو ته تله نور بودګان (څاروی) او حیوانات به له هغې څخه ویریدل او لری به تښتیدل نو د الله تعالیٰ له لوری وار او نوبت مقرر شو چه یوه ورځ به هغې اوښې اوبه څښلې او بله ورځ به نورو حیواناتو.

فَنَادَوْا صَاحِبَهُمْ فَتَعَاطَىٰ فَعَقَرَ ﴿٢٩﴾

نو راوباله دوی ملګری خپل (لپاره د وژلو د اوښې نو توره ئی واخیسته) پس پری ئی کړی پښې (د هغې اوښې او مره ئی کړه).

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب لیکی «یوه بدکاره ښځه وه چه حیوانات ئی ډیر ؤ هغې خپل یو آشنا وسراښاوه (ولمساوه) او هغه د دی اوښی پښی پری کړی او وی وژله نو نازل شو پری عذاب پس له دریو ورځو نه».

فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٣٠﴾ إِنَّا أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ صَيْحَةً وَاحِدَةً فَكَانُوا كَهَشِيمِ الْمُحْتَظِرِ ﴿٣١﴾

پس څرنګه ؤ عذاب ځما او ویرول ځما. بیشکه مونږ ولیږه مونږ پر هغو باندی غږ یو (د جبریل) نو شول دوی لکه وچ مات شوی (توتی توتی خس خاشاک واښه شپول جوړوونکی).

**تفسیر:** یعنی پرښتی یوه سخته کریکه وکړه چه د هغی لامله (له وجی) د هغو ګردو (تولو) زړونه وچاودل او تول سره هک پک او ترهور (حیران) پاتی شول او هسی راوبریښیدل لکه چه د وښو یوه لویه کوټه د بودګانو (څاروو) تر پښو لاندی غوبل شوی وی او ګرد (تول) سره ګوډ او مات او چیت او بوس بوس شوی وی.

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٣٢﴾ كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍ بِالنُّذُرِ ﴿٣٣﴾

او خامخا په تحقیق آسان کړی دی مونږ قرآن لپاره د ذکر یادولو پند اخیستلو نو آیا شته څوک یادوونکی پند اخیستونکی؟ دروغجن کړی ؤ قوم د لوط ویروونکی انبیاء لره.

**تفسیر:** یعنی دوی حضرت لوط علیه السلام ته دروغجن وویل او په داسی کار سره چه د یوه نبی تکذیب ئی وکړ ګواکی د ګردو (تولو) انبیاؤ تکذیب ئی وکړ یا دروغجن کړی قوم د لوط لوط په ویرولو او پند ورکولو د ده سره دوی لره.

إِنَّا أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ حَاصِبًا إِلَّا آلَ لُوطٍ نَّجَّيْنَاهُم بِسَحَرٍ ﴿٣٤﴾ نِّعْمَةً مِّنْ عِندِنَا كَذَٰلِكَ نَجْزِي مَن شَكَرَ ﴿٣٥﴾

بیشکه مونږ لیږلی ؤ مونږ پر دوی باندی باد کانی ویشتونکی مګر کورنی د لوط وموژغورل (وموساتل) دوی په پیشمنی کښی له جهته د مهربانی له نزده ځمونږ هم داسی (د آل لوط په شان) جزاء ورکوو مونږ هغه ته چه شکر وباسی حق منونکی وی.

**تفسیر:** یعنی لوط علیه السلام په پیشمنی کښی له خپلو کورنیو سره روغ رمټ ووتلو او هغوی ته هیڅ ربړ (تکلیف) او عذاب ونه رسید. او ځمونږ عادت هم داسی دی چه حق پیژندونکیو او شکر ویستونکیو بندګانو ته هسی جزا ورکوو.

وَلَقَدْ أَنْذَرَهُمْ بَطْشَتَنَا فَتَمَارَوْا بِالنُّذُرِ ﴿٣٦﴾

او خامخا په تحقیق ویرولی ؤ (لوط) دوی لره له نیولو ځمونږ څخه نو شک وکړ دوی په ویرولو (د هغه کښی).

**تفسیر:** یعنی د هغو په خبرو کښی به یی چتی (بیکاره) ویناوی شبهی جګړی کولی او هغه به ئی دروغجن کاوه (په ویلو د ده کښی).

وَلَقَدْ رَاوَدُوهُ عَنْ ضَيْفِهِ فَطَمَسْنَا أَعْيُنَهُمْ فَذُوقُوا عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٣٧﴾

او خامخا په تحقیق غوښتی ؤ دوی له دغه (لوط څخه) میلمانه د هغه (بدکاری ته) نو محو ړندی کړی مونږ سترګی د دوی پس (وفرمایل الله دوی ته په ژبه د ملائکو چه) وڅکئ تاسی ثمر د عذاب ځما او د ویرولو ځما.

**تفسیر:** پر هغو پرښتو باندی چه د ښکلیو هلکانو په اشکالو راغلی وی دوی د انسانانو ګمان کړی او د خپلو بدو اخلاقو او بدو رشو په غوښتنه پر دوی باندی د لاس اچولو په فکر کښی شول نو مونږ هغوی ړانده کړل چه هر لوری ته ګرځیدل او له هر شی سره لګیدل او هیڅ شی به هغوی ته نه ښکاریده نو ورته ومو ویل چه ړومبی تاسی د دی عذاب خوند وڅکئ!

وَلَقَدْ صَبَّحَهُمْ بُكْرَةً عَذَابٌ مُسْتَقِرٌّ ﴿٣٨﴾ فَذُوقُوا عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٣٩﴾

او خامخا په تحقیق راغلی ؤ دوی ته په وقت د صباح کښی عذاب چه ثابت

قرار نیوونکی ؤ (په دوی باندی) نو (وفرمایل الله دوی ته په ژبه د ملائکو چه) وڅکئ تاسی ثمره د عذاب څما او د ویرولو څما.

**تفسیر:** یعنی له ړندولو څخه وروسته مو د هغوی کلي واړول او پر دوی باندی می له پاسه تیږی (ګټی) وورولی له هغه وړوکی عذاب څخه وروسته دا لوی عذاب ؤ چه پر دوی باندی له پاسه د صباؤن په وقت کښی راولوید.

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿٤٠﴾ وَلَقَدْ جَآءَ اٰلَ فِرْعَوْنَ النُّذُرُ ﴿٤١﴾

او خامخا په تحقیق آسان کړی دی مونږ قرآن لپاره د ذکر یادولو پند اخیستلو نو آیا شته څوک یادوونکی پند اخیستونکی. او خامخا په تحقیق راغلی ؤ (فرعون او) قوم د فرعون ته ویروونکی.

**تفسیر:** حضرت موسیٰ او هارون علیهما السلام او د هغوی ویروونکی نهه مشهوری معجزی.

كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا كُلِّهَا فَاَخَذْنٰهُمْ اَخْذَ عَزِيْزٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿٤٢﴾

دروغجن کړل هغوی دلائل د قدرت څمونږ ټول نو ونیول مونږ دوی په نیولو د ذات ډیر غالب او قادر سره.

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ نیول زبردست نیول دی چه د هغه قوت او قدرت له لاسه هیڅوک چیری نشی تښتیدلی ـ لکه چه د فرعونیانو ګرد (ټول) لاؤ لښکر ئی سره له فرعون د قلزم په بحیره کښی هسی سره ډوب کړل چه یو تن هم د هغو له منځه خلاص نشو.

اَكُفَّارُكُمْ خَيْرٌ مِّنْ اُولٰٓئِكُمْ اَمْ لَكُمْ بَرَآءَةٌ فِى الزُّبُرِ ﴿٤٣﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ نَحْنُ جَمِيْعٌ مُّنْتَصِرٌ ﴿٤٤﴾

آیا کفار ستاسی (ای عربو!) غوره دی له ړومبنیو (کفارو) د تاسی څخه یا

تاسي ته (حکم) د خلاصي دی په (پرومبنیو) کتابونو کښې. آیا وائی دوی (چه) مونږ یو تولی مرستی (مدد) کوونکی یو له بل سره بدل اخیستونکی.

**تفسیر:** الله تعالیٰ د پرومبنیو قومونو قصه اوروی او د هغی په منځ کښې موجوده ؤ خلقو ته خطاب کوی چه آیا له دی موجوده ؤ کافرانو څخه پخوانی کافران کم قوته یا بی شوکته ؤ؟ یا دوی له هغوی څخنی قوی او ښه دی ؟ کله چه مونږ هغو تیرو کافرانو ته د هغوی د کفر او طغیان په سزا کښې تباهی ورکړه نو آیا د دوی تباهی کومه سخته خبره ده؟ یا دوی ته د الله تعالیٰ له لوری کوم لیکلی امر ورکړی شوی دی چه هومره مو چه زړه غواړی شرارت او سرکشی وکړئ تاسی ته هیڅوک سزا نه درکوی یا ئی داسی ګڼلی او تاکلی (مقرر کړی) دی چه څمونږ مجمع او تولنه ډیره لویه ده مونږ به یو له بل سره مرستی (مدد) کوو او ګرد (تول) به په دی وسیله له سزا څخه ځانونه ساتو او هیڅوک به نه پریږدو چه څمونږ په مخ کښې بریالی (کامیاب) شی نو فرمائی الله جل جلاله:.

سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ ﴿٤٥﴾

ژر ده چه ماته به کړه شی جمع (د دوی) او وبه ګرځوی دوی شاوی خپلی (مسلمانانو ته له جنګه).

**تفسیر:** یعنی ژر ده چه دوی ته به د هغوی د دی مجمع حقیقت ورښکاره شی او د مسلمانانو په منځ کښې به ماتی ومومی او شا به وګرځوی لکه چه په بدر ـ احزاب او نورو غزاؤ کښې دغه وراندی ویل راښکاره شول په دی وخت کښې څمونږ د لوی استاځی په ژبه باندی دا آیت جاری ؤ ﴿ سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ ﴾

بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ أَدْهَىٰ وَأَمَرُّ ﴿٤٦﴾

(دغه قتل او ماتی کافی نه ده دوی ته) بلکه قیامت دی وقت ځای د وعدی (د عذاب) د دوی او قیامت ډیر سخت دی (چه نه لری هیڅ علاج) او ډیر تریخ دی (له عذابه د دنیا نه).

**تفسیر:** یعنی دلته به څه ماتی ومومئ د دوی اصلی ماتی به په هغه وقت کښې وی چه قیامت په سر راودریږی او هغه به د سخت مصیبت وقت وی.

إِنَّ الْمُجْرِمِينَ فِي ضَلَٰلٍ وَسُعُرٍ ﴿٤٧﴾ يَوْمَ يُسْحَبُونَ فِي النَّارِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ ذُوقُوا مَسَّ سَقَرَ ﴿٤٨﴾

بیشکه ګنهګاران په ګمراهي کښې دی او په اور ګرم (د دوزخ او لیونتوب) کښې دی. هغه ورځ چه راکش کړل به شي دوی په اور (د دوزخ) کښې په مخونو د دوی (وبه ویل شي دوی ته زجراً چه) وڅکئ تاسی (مزه) د مس کولو رسیدلو (د اور) د دوزخ.

**تفسیر:** یعنی په هغه وقت کښې د غفلت لامله (له وجی) هک بک او حیران پاتی کیږی او دا سودا یی هلته له ککری څخه راوځی چه په زیرو سترګو او مات اورمیږه د دوزخ په اور کښې راښکوولی شی او وبه ویل شی دوی ته زجراً د ملائکو په ژبه چه «واخلئ اوس لږ څه د دی ګرم اور مزه هم وڅکئ!».

إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَٰهُ بِقَدَرٍ ﴿٤٩﴾

بیشکه مونږ هر شي پیدا کړی مو دی په (ړومبنی ازلی) اندازه سره.

**تفسیر:** هر راتلونکی شی لا له پخوا څخه د الله تعالیٰ په علم کښې شته او کتمت (هو بهو) هم هغسی لیکلی شوی دی او له هغه څخه هیڅ یو شی وراندی وروسته کیدونکی نه دی. د دنیا عمر، د قیامت وقت او نور تول شیان د الله تعالیٰ په ازلی علم کښې معین، مقرر او تاکلی شوی دی چه هغه خامخا په همغه مقرر او مقدر وقت کښې واقع کیدونکی دی او له سره په هغه کښې تقدیم او تاخیر نشی کیدی.

وَمَا أَمْرُنَا إِلَّا وَٰحِدَةٌ كَلَمْحٍۭ بِالْبَصَرِ ﴿٥٠﴾

او نه دی امر ځمونږ (یو شی لره چه اراده مو کړی ده د هغه د پیدا کولو) مګر (امر) یو ځل لکه رپول د سترګو.

**تفسیر:** یعنی د سترګو په رپولو کښې د هر خیز اراده چه الله تعالیٰ وفرمائی هم هغسی کوی الله تعالیٰ ته د یوه شی په جوړولو یا د یوه خیز په ورانولو کښې هیڅ ځنډ (ایسارتیا) نه واقع کیږی او نه څه ربړ (تکلیف) او مشقت ورپیښیږی.

وَلَقَدْ أَهْلَكْنَآ أَشْيَاعَكُمْ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٥١﴾

او خامخا په تحقیق هلاک کړی دی مونږ مشابه نظائر ستاسی (له سابقه ؤ امو) نو آیا شته څوک یادوونکی پند اخیستونکی.

**تفسیر:** یعنی تاسی غوندی ډیر کافران مو تباه کړی دی نو په تاسی کښی دغسی کوم فکر کوونکی نه دی چه د هغو له احواله عبرت واخلی او په صدق سره ایمان راوړی.

وَكُلُّ شَيْءٍ فَعَلُوهُ فِي الزُّبُرِ ﴿٥٢﴾

او هر هغه شی چه کړی دی هغوی (لیکلی شوی دی) په (پاڼو د اعمالنامی د دوی او په) لوح محفوظ کښی.

**تفسیر:** یعنی هر یو نیک او بد عمل وروسته له کولو څخه د هغوی په اعمالنامو کښی لیکلی کیږی او د پوښتنی په وقت کښی دا ګرد (ټول) کاغذونه او دفترونه وړاندی کیږی.

وَكُلُّ صَغِيرٍ وَكَبِيرٍ مُّسْتَطَرٌ ﴿٥٣﴾

او هر وړوکی او لوی (عمل که خیر وی که شر وی) لیکلی شوی دی (په لوح محفوظ کښی).

**تفسیر:** یعنی پخوا له دی څخه د هر وړوکیو او لویو شیانو تفصیل په لوح محفوظ کښی لیکلی شوی دی او ګرد (ټول) دفترونه ئی په منظم ډول سره مرتب دی تر دی چه ډیر یو وړوکی شی هم له قلمه نه دی لویدلی.

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَنَهَرٍ ﴿٥٤﴾ فِي مَقْعَدِ صِدْقٍ عِندَ مَلِيكٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿٥٥﴾

بیشکه ویریدونکی به په جنتونو کښی وی او په ویالو کښی وی (چه څکی له

اوبو شرابو ـ شاتو ـ شودو د هغو) په مجلس (حق) رښتیا (د جنت) کښې په نزد د باچا لوی قدرت لرونکی (چه هیڅوک ئی نشی عاجزولی).

**تفسیر:** وروسته له مجرمینو څخه اوس د متقینو انجام بیان فرمائی چه دوی به د خپل صدق په سبب د الله تعالیٰ د استاځی له رښتیا وعدی سره سم په یوه غوره ځای کښې وی چه هلته به ئی د مالک الملک والملکوت د قرب دولت په لاس وی.

**اللّٰهم انک ملیک مقتدر ماتشاء من امر یکون فاسعدنا فی الدین وکن لنا ولا تکن علینا وآتنا فی الدنیا حسنة وفی الآخرة حسنة وقنا عذاب النار.**

**تمت سورة القمر بعون الله وتوفیقه**

سورة الرحمٰن مدنیة وهی ثمان وسبعون آیة وثلٰث رکوعات رقمها (۵۵) تسلسلهاحسب النزول (۹۷) نزلت بعد سورة الرعد.

د «الرحمٰن» سورت مدنی دی (۷۸) آیتونه (۳) رکوع لری په تلاوت کښې (۵۵) او په نزول کښې (۹۷) سورت دی وروسته د «الرعد» له سورته نازل شوی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

اَلرَّحْمٰنُ ﴿۱﴾ عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ ﴿۲﴾

رحمٰن ښوولی دی قرآن (هغه چاته چه اراده ئی شوی ده د ښوونی د قرآن).

**تفسیر:** یعنی دغه قرآن کریم د الله تعالیٰ په عطایاؤ کښې لویه عطیه او د ده په نعمتونو کښې له ګردو (تولو) څخه لوی نعمت او رحمت دی. د انسان بساط ته او د هغه ظرف ته خیال وکړئ او د قرآن د علم دا بی څندی (غاړی) لرونکی لوی بحر او سیند ته وګورئ او بیا ځیر شئ چه انسان ته ئی سره له دومره ضعفه څومره عزت او لوئی د عظیم الشان قرآن په وربښلو سره ورکړی ده! او دی ضعیفالبیان انسان ته ئی له آسمانونو او غرونو څخه خورا (ډیر) لوی او درونډ شی وربښلی دی او دی ئی د هغه حامل ګرځولی دی چه هغه د رحمٰن هم دا پاک کلام دی. که نه چیری بشر او چیری د الله تعالیٰ کلام؟

**تنبیه:** د «النجم» په سورت کښې ئې وفرمايل چه ﴿ عَلَّمَهُ شَدِيدُ الْقُوَىٰ ﴾ الآية ـ او دلته ئې راخرګننده کړه چه د قرآن اصلي ښوونکی الله تعالیٰ دی که څه هم د پرښتو په وسیلې سره ئې رابښې.

﴿ خَلَقَ الْإِنْسَانَ ۝٣ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ۝٤ ﴾

پیدا کړی ئې دی انسان بیا ئې ورښوولی دی بیان (خبری چه د زړه مقصدونه ئې پری ادا کیږی).

**تفسیر:** «ایجاد» یعنی د وجود عطاء فرمایل د الله تعالیٰ له لویو نعمتونو څخه دی. بلکه د ګردو (ټولو) نعمتونو بیخ دی او هغه په دوه ډوله (قسمه) دی ایجاد د ذات او ایجاد د صفت نو الله تعالیٰ اول سړی پیدا کړ او په هغه کښې یې د علم بیان صفت هم کیښود. یعنی قوت ئې وروباښه چه د خپل زړه خبره په ډیره صفائی ـ حسن او ښه والي سره اداء کړی شي او د نورو په خبرو او اترو باندی هم ښه وپوهیږی. انسان په دی صفت سره قرآن مجید هم لوستی شي او هم ئې لولولی شي د خیر او شر ـ د هدایت او ضلالت د ایمان او کفر ـ د دنیا او آخرت په خبرو باندی هم په ښه شان سره پوهیږی او هم نور پری پوهولی شي.

﴿ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ بِحُسْبَانٍ ۝٥ ﴾

لمر او سپوږمی (جاری او روان) دی په حساب سره (چه پخپل تګ کښې نه تیریږی له هغه نه).

**تفسیر:** یعنی د دواړو طلوع او غروب زیاتوالی او لږوالی یا په یو احوال باندی قائم پاتی کیدل ـ بیا د هغوی په وسیله د فصلونو او موسمونو بدلیدل او په سفلیاتو باندی راز راز (قسم قسم) تاثیرات غورځول دا ګرد (ټول) تر یوه خاص حساب او ضابطې او مضبوط نظام لاندی دی مجال نشته چه د هغه له تاکلي (مقرر کړی) دائری څخه بهر ووځی او د خپل مالک او خالق له ورکړیو شویو احکامو څخه مخ واړولی شي الله تعالیٰ هغه لوئی ګټی چه د دی دواړو په وسیله خپلو بندګانو ته تل وررسوی. دوی په هغو کښې هیڅ قصور او کوتاهی او لندوالی نشي کولی او پرله پسې دوی د مخلوقاتو په خدمت کښې بوخت او لګیا دی.

﴿ وَالنَّجْمُ وَالشَّجَرُ يَسْجُدَانِ ۝٦ ﴾

او ستوری یا نباتات (چه ساق نه لری د ودریدو) او ونی (چه ساق لری د ودریدو) سجده کوی دوی دواړه (الله تعالیٰ ته دغسی سجده چه له شان د دوی سره مناسب دی او تول د الله تعالیٰ تسبیح وائی چه بل پری نه پوهیږی).

**تفسیر:** یعنی د علویاتو په شان سفلیات هم د خپل مالک مطیع او منقاد دی له وړوکی ترکودی (نباتات) څخه نیولی تر غځیدلیو پنګو جلغو (تاکو) لویو ونو او غنو ګرد (تول) د هغه د تکوینی امر په مقابل کښی سر په سجده دی که بندګان دوی پخپلو چارو کښی ولګوی نو له هغه څخه هم انکار نشی کولی.

وَالسَّمَآءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ الْمِيزَانَ ﴿٧﴾ أَلَّا تَطْغَوْا فِي الْمِيزَانِ ﴿٨﴾ وَأَقِيمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلَا تُخْسِرُوا الْمِيزَانَ ﴿٩﴾

او آسمان پورته کړی دی (الله) هغه (پر ځمکه باندی) او ایښی ئی دی میزان تله (د عدل پر ځمکه لپاره د دی چه ونه کړئ تاسی تیری په میزان تله (د عدل) کښی (او کوئ معامله په راستی سره) او برابروئ وزن تول په انصاف سره او مه‌کموئ میزان تلل (او کمی مه کوئ په تول کښی).

**تفسیر:** وړاندی تر دی د هسی دوو دوو څیزونو بیان راغلی دی دلته هم د آسمان له پاسوالی سره د ځمکی د تیتوالی ذکر یی وفرمایه او ښائی په منځ کښی ئی د تلی او میزان ځکه ذکر کړی وی چه زیاتره د تللو په وقت کښی تله له ځمکی څخه هسکه او د آسمان په لوری اوچته وی دا په هغه تقدیر سره دی چه له میزان څخه هم دا هسی او متعارف میزان مراد وی ځکه چه په دی صورت کښی د زیاترو ورکړه راکړه او د معاملاتو سموالی او د حقوقو حفاظت له هغه سره تړلی دی نو د دی لامله (له وجی) ئی هدایت وفرمایه چه د میزان د ایښودلو مقصد هلته حاصلیږی چه نه د اخیستلو په وقت کښی زیات واخیست شی او نه د ورکولو په وقت کښی لږ ورکړ شی او نه د تلی په دواړو پلو او چابریو کښی هیڅ لږ والی او ډیروالی ولید شی او نه د تللو په وقت ډنډی ووهله شی بلکه په ډیر دیانت ـ امانت او نیاو (عدل) سره سم او برابر وتللی شی.

**تنبیه:** زیاترو اسلافو او پخوانیو مشرانو د میزان له وضع څخه په دی ځای کښی د نیاو (عدل) تینګوالی د عدل قیام مراد کړی دی یعنی الله تعالیٰ له آسمان څخه اخیستی تر ځمکی او نورو هغو شیانو چه د دوی په منځ کښی شته په هر شی کښی حقانیت او عدالت او مساوات قائم کړی دی او په اعلیٰ درجی سره د هغو شیانو په منځ کښی توازن او تناسب ساتی که په

کائناتو کښې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وی نو د نړی (دنیا) او نړی والاتو (دنیادارو) او د ګردو (تولو) کائناتو دا تول انتظام او ساتنه او انضباط سره ګدوډ کیده. نو ځکه پر مونږ بندګانو باندی هم لازم دی چه د عدالت او حقانیت په لاری سم او برابر لاړ شو او په هغی باندی مستقیم واوسو. د نیاو (عدل) او انصاف تلی ته هیڅ هسکوالی او تیتوالی ور نه کړو. او نه پر چا باندی تجاوز او زیادت وکړو او نه د چا حق وساتو. په حدیث کښې راغلی دی چه «ځمکه او اسمان په عدل باندی قائم دی».

وَالْأَرْضَ وَضَعَهَا لِلْأَنَامِ ⑩

او ځمکه غوړولی تیته کړی ده (الله) دپاره د خلقو.

**تفسیر:** یعنی خلق په هغی باندی په آرامی او هوسائی (راحت) سره تګ وکړی. او راشه درشه ولری او خپل کاروبار دنده (وظیفه) قائمه وساتی.

فِيهَا فَاكِهَةٌ وَّالنَّخْلُ ذَاتُ الْأَكْمَامِ ⑪ وَالْحَبُّ ذُو الْعَصْفِ وَالرَّيْحَانُ ⑫

په دی (ځمکی) کښې (ډول ډول ـ قسم قسم) میوی دی او خرماګانی دی خاوندانی د پوښو او (په دی ځمکه کښې دی ډول ډول ـ قسم قسم) دانی خاوندانی د وښو او (خاوندانی) د خوشبوئی ورقی د ښو وږمو.

**تفسیر:** یعنی میوی او دانی هم له ځمکی څخه راوځی او په غلو او دانو کښې دوه شیان وی. اول دانه چه هغه زیاتره د انسانانو خواړه دی. بل واښه چه هغه د بودګانو (حیوانانو) ازوغه (خوراکه) ده او ځینی نور شیان هم له ځمکی ځنی پیدا کیږی چه یا د خوړلو دپاره پکار راځی یا د خوشبوئی دپاره او د ښو وږمو او د نورو چارو او کار فائده ورڅخه اخیسته کیږی.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ⑬

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب د تاسی دروغ وایئ (او منکریږئ تری ای انسانانو او پیریانو بلکه نشئ کیدی).

**تفسیر:** یعنی ای پیریانو او انسانانو په پاس آیتونو کښی ستاسی د رب هغه عظیم الشان نعمتونه او د قدرت لوئی نښی چه بیان کړی شوی تاسی به د هغو له منځه د کومو کومو څیزونو په دروغ ګڼلو باندی ځغردوالی او جراءت وکړئ ایا دا نعمتونه او نښی د نه منلو او د انکار وړ (لائق) دی بلکه نه دی. عالمان د یوه صحیح حدیث په بناء سره لیکی «کله چه کوم سړی دا آیت ولولی ﴿ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ یا ئې واوری نو داسی جواب دی ورکړی **«لابشئ من نعمک ربنا نکذب فلک الحمد»** ای څمونږ پالونکیه! مونږ د ستاسی هیڅ یو نعمت نه شو دروغ ګڼلی ګرد (تول) حمد او ثناوی ستاینی (صفتونه) تاته دی!.

**تنبیه:** که څه هم د پیری (جن) ذکر په تصریح سره ړومبی نه دی راغلی لیکن د (انام) په لفظ کښی هغه شامل دی. او په ﴿ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴾ کښی د دواړو پیدایش عبادت ته ذکر شوی دی. او وروسته له دی څخه پرله پسی د انسان او د پیری د پیدا کولو کیفیت راښیی او له څو آیتونو څخه وروسته په ﴿ سَنَفْرُغُ لَكُمْ أَيُّهَ الثَّقَلَانِ ﴾ او ﴿ يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ ﴾ کښی ئې په صراحت سره جن او انس مخاطب کړی دی. دا قرائن داسی دلالت کوی چه دلته هم هغه دواړه مخاطبان دی.

خَلَقَ الْإِنسَانَ مِن صَلْصَالٍ كَالْفَخَّارِ ﴿١٤﴾ وَخَلَقَ الْجَانَّ مِن مَّارِجٍ مِّن نَّارٍ ﴿١٥﴾

پیدا کړی دی (الله) انسان (آدم) له ختی کړنګیدونکی وچی څخه په شان د کودری او پیدا کړی دی (الله) (پلار د) پیریانو (ابلیس) له خالصی شغلی د اور څخه چه دود (لوګی) ئې نه درلود (لرلو).

**تفسیر:** یعنی د ګردو (تولو) بنی آدمانو پلار مو له خاوری څخه او د پیریانو پلار مو د اور له خالصو لمبو څخه پیدا کړی دی.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿١٦﴾

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب د تاسی دروغ وایئ (او منکریږئ تری ای انسانانو او پیریانو بلکه نشئ کیدی).

**تفسیر:** د «آلاء» ترجمه عموماً په نعمت سره کړی شوی ده مګر ابن جریر رحمة الله علیه د څینو

اسلافو له روایته د هغه معنی په «قدرت» سره کړی ده نو ځکه په هر یوه ځای کښی هر یوه معنی چه ښه سره لګیږی همغه معنی دی واخیسته شی دلته او له دی څخه په پخوانی آیت کښی د دی دواړو مطلبونو معنی ښښی ځکه چه جن او انس لره ئی د وجود په خلعت سره سرلوړی (سرفرازی) ښښل او د لایعقل جماد څخه عاقل ناطق جوړول د الله تعالیٰ لوی نعمت دی او د هغه د لامحدود قدرت ښښی هم دی.

**تنبیه:** د ﴿ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴾ جمله په دی سورت کښی یو دیرش ځلی تکرار شوی ده او په هر ځلی کښی د یوه خاص نعمت په لوری اشاره شوی ده یا د عظمت او قدرت له شئونو څخه یو خاص شان ته توجه په عمل راغلی ده. داسی مکررات د عربو او د عجمو په خبرو کښی ډیر موندلی کیږی څه موده پخوا له دی څخه د «القاسم» په رساله کښی مولیٰنا شبیر احمد العثمانی یو مضمون تر دی عنوان لاندی چه «په قرآن مجید کښی ولی تکرار شته» چاپ کړی ؤ په هغه کښی ئی څو نظائر د عربو د لویو شعراؤ وړاندی او د تکرار په فلسفی باندی ئی بحث کړی دی چه دلته د هغه د بسط ځای نشته.

---

رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ وَرَبُّ الْمَغْرِبَيْنِ ﴿١٧﴾

---

دی رب د دواړو مشرقونو لمر ختو د ژمی او ووړی دی او رب د دواړو مغربونو لمر پریوتو د ژمی او ووړی دی.

---

**تفسیر:** په اوړی او ژمی کښی له کومو کومو ځایونو څخه چه لمر راخیژی او په کومو کومو ځایونو کښی چه لمر پریوځی هم دغو ځایونو ته «مشرقین» او «مغربین» وایه شی چه د هم دی مشرقینو او مغربینو د تغییر او تبدیل څخه موسمونه او فصلونه پیدا کیږی. او راز راز (قسم قسم) انقلابات څرګندیږی د ځمکی هستیدونکیو ته له دی تغیراتو څخه په زرهاؤ ګټی فوائد او مصالح ور رسیږی. نو د دوی بدلیدل او یو د بل په ځای راتلل هم د الله تعالیٰ لوی نعمت دی او د الله تعالیٰ له لویو قدرتونو څخنی یو عظیم قدرت دی.

**تنبیه:** د دی آیت په وړاندی او وروسته کښی د دوو شیانو ذکر شوی دی نو ځکه دلته د مشرقینو او مغربینو ذکر هم ډیر خوندور او لطیف ښکاری.

---

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿١٨﴾ مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيٰنِ ﴿١٩﴾ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيٰنِ ﴿٢٠﴾

---

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب د تاسی دروغ وایئ (او منکریږئ تری

ای انسانانو او پیریانو بلکه نشئ کیدی) بهولی ئی دی دوه بحرونه سیندونه چه یو ځای ښکاریږی په منځ د دواړو کښی یوه پرده (د قدرت) ده چه نه ګډیږی یو په بل باندی.

**تفسیر:** یعنی هسی نه دی چه خوږی او ترخی اوبه یو په بل باندی تیری وکړی او د مخامخ خوا په خاصیت کښی څه تزئید او تبدیل وارد کړی یا د دی دواړو له یو ځای کیدلو څخه دومره اوبه زیاتوب وکړی چه د طوفان او ډوبیدلو ویره پیدا شی. د دی آیت د مضمون په نسبت څه تقریر د «فرقان» د سورت په آخر کښی ځمونږ دغه مبارک تفسیر کښی پخوا له دی څخه تیر شوی دی هغه دی هلته وکوت شی!

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۲۱﴾ یَخْرُجُ مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ وَالْمَرْجَانُ ﴿۲۲﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۲۳﴾ وَلَهُ الْجَوَارِ الْمُنْشَاٰتُ فِی الْبَحْرِ کَالْاَعْلَامِ ﴿۲۴﴾

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب د تاسی دروغ وایئ (او منکریږئ تری ای انسانانو او پیریانو بلکه نشئ کیدی). راوځی له دی دواړو څخه لؤلؤ او مرجان پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب تاسی دروغ وایئ (او منکریږئ تری ای انسانانو او پیریانو بلکه نشئ کیدی). او خاص دغه (الله) لره دی بیړی تلونکی نوی پیدا کړی شوی لوړی (اوچتی) په بحر سیند کښی لکه لوی لوړ (اوچت) غرونه.

**تفسیر:** یعنی کشتی او بیړی که څه هم په ښکاره ستاسی جوړ کړی شیان دی مګر ستاسی جوړوونکی الله تعالیٰ دی او همغه پاک الله تاسی ته هسی قوت ـ قدرت ـ ساز ـ او سامان دربښلی دی چه د هغه په وسیله یواځی جهازونه بلکه په زرهاؤ نور شیان جوړولی شئ. نو ځکه الله تعالیٰ ستاسی او ستاسی د ګردو (ټولو) مصنوعاتو او مملوکاتو څیښتن (خاوند) او خالق دی او دا ګرد (ټول) د هغه نعمتونه او د ده د قدرت دلائل او نښی دی.
**تنبیه:** دا جمله د ړومبنی جملی ﴿یَخْرُجُ مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ﴾ الآیة - په مقابل کښی ده یعنی د سیند د تل (تحت) څخه هسی ښه شیان راوځی او د پاسه ئی داسی شیان رادرومی چه دا دواړه په خپلو ځایونو کښی د هغه لوی قدرت او نعمت ګڼل کیږی.

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۲۵﴾ کُلُّ مَنْ عَلَیْهَا فَانٍ ﴿۲۶﴾ وَّیَبْقٰی

وَجۡهُ رَبِّكَ ذُو الۡجَلٰلِ وَالۡاِكۡرَامِ ﴿۲۷﴾

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب د تاسی دروغ وایئ ( او منکریږئ تری ای انسانانو او پیریانو بلکه نشئ کیدی). تول هغه څوک چه په دی (ځمکه) کښی دی فانی کیدونکی دی او باقی به پاتی شی ذات د رب ستا چه خاوند د جلال لوئی دی او (خاوند د) اکرام عزت ورکولو ـ عظمت ـ فضل ـ احسان دی.

**تفسیر:** د ځمکی او د آسمان گرد (تول) مخلوقات د حال په ژبی سره خپل حاجات او اړتیاوی (احتیاجونه) له هغه الله تعالیٰ څخه غواړی هیڅوک د یوی رپی (ثانیی) له مخی هم د الله تعالیٰ له مهربانی څخه بی پروا او مستغنی کیدی نشی او الله تعالیٰ هم سم له خپله حکمته او قدرته د هر چا اړتیاوی (احتیاجونه) او حاجات پورته کوی هر وقت د هغه کار جلا (جدا) دی او هره ورځ د ده شان او عظمت بل دی څوک وژنی ـ څوک ژوندی کوی ـ یو رنځوروی بل جوړوی له یوه څخه اخلی او بل ته ئی ورکوی یو ځای ودانوی او بله سیمه ورانوی لنده ئی دا هر څه چه غواړی کوی ئی او د الله تعالیٰ په شئوناتو کښی داخل دی او هر شی چه کوی څوک یی مخه نشی نیولی.

**سبحان من تحیر فی صنعه العقول . سبحان من بقدرته یعجز الفحول**

مړ کوی ژوندی کوی دی څه ښی چاری د ده

شین کوی شین وچ کوی زه دی شم واری د ده

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۲۸﴾ یَسۡـَٔلُهٗ مَنۡ فِی السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ کُلَّ یَوۡمٍ هُوَ فِیۡ شَاۡنٍ ﴿۲۹﴾

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب د ستاسی دروغ وایئ (او منکریږئ تری ای انسانانو او پیریانو بلکه نشئ کیدی). سؤال غوښتنه کوی له دغه (الله څخه د رزق د مغفرت او د نورو حوائجو) هر هغه څوک چه په آسمانونو او په ځمکه کښی دی هره ورځ هر وقت دی په یوه کار کښی دی (د احیاء او د افناء او د نورو).

**تفسیر:** یعني د دنیا دا کارونه او دندې وظیفې ژر دي چه پای (آخر) ته به ورسیږي وروسته له هغه ستاسي بل ژوندون او دوره شروع کیږي کله چه ستاسي د دې لویو جوړو او قافلو شمیر او لیک حساب او کتاب کیږي نو هلته به د ګنهګارانو او مجرمانو پوره خبر واخیست شي او وفا لرونکي ته به ښه صله او انعام ورکاوه کیږي.

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۳۰﴾ سَنَفْرُغُ لَکُمْ اَیُّهَ الثَّقَلٰنِ ﴿۳۱﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۳۲﴾ یٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ اِنِ اسْتَطَعْتُمْ اَنْ تَنْفُذُوْا مِنْ اَقْطَارِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ فَانْفُذُوْا لَا تَنْفُذُوْنَ اِلَّا بِسُلْطٰنٍ ﴿۳۳﴾

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب د تاسي دروغ وایئ (او منکریږئ ترې ای انسانانو او پیریانو بلکه نشئ کیدی) ژر ده چه فارغ وزګار به شو مونږ (او قصد به وکړو حساب د) تاسي ته ای دوو درنو قبیلو (د انسانانو او پیریانو) پس په کوم یوه نعمت د رب د تاسي دروغ وایئ (او منکریږئ ترې ای انسانانو او پیریانو بلکه ترې منکریدې نشئ چه دا د الله له جانبه نه دي) ای تولیه د پیریانو او د انسانانو که چیرې قدرت لرئ تاسي چه بهر ووځئ (وتښتئ تاسو) له څنډو (غاړو) د آسمانونو او (له څنډو د) ځمکې څخه پس ووځئ وتښتئ وبه نه وځئ وبه نه تښتئ تاسي مګر په قوت او زور سره (چه نه ئې لرئ!).

**تنبیه:** په ﴿ سَنَفْرُغُ ﴾ کښې مقصود ویرول دي د خلقو د الله تعالیٰ له جانبه په حساب سره نه وزګاریدل دي له څه کار څخه په رښتیا سره ځکه چه نه مشغولوي الله تعالیٰ یو کار له بل کار څخه یعني که څوک وغواړي چه د الله تعالیٰ له حکومت څخه وتښتي نو بې له قوت او غلبې څخه به څرنګه وتښتي آیا پرته (علاوه) له الله جل جلاله څخه بل څوک قوتمن او زورور شته؟ نو دی به چیرې تښتي؟ بله باچائي او قلمرو کوم دي چه دې هلته لاړ شي برسیره پر دې د دنیا معمولي حکومتونو ته هیڅوک بې سنده او رهدارۍ (پاسپورټ) نه پریږدي چه لاړ شي یا راشي نو الله تعالیٰ به څرنګه چاته اجازه ورکړي چه بې له سنده بل چیرې لاړ شي.

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۳۴﴾

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب د تاسي دروغ وایئ (او منکریږئ ترې

ای انسانانو او پیریانو بلکه نشۍ کیدی).

**تفسیر:** یعنې داسې په ښکاره ډول (طریقه) به ګرد (تول) وړاندې او وروسته او لاندې باندې درشیې او پر هر شي باندې تاسې خبروی چه هر یو له دوی څخه لوی نعمت دی نو آیا تاسې به د دې لویو نعمتونو هیڅ قدر نه کوئ؟ او د الله تعالیٰ هسې عظیم الشان قدرتونه به دروغ ګڼئ.

يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِّن نَّارٍ وَنُحَاسٌ فَلَا تَنتَصِرَانِ ﴿٣٥﴾

وبه لیږلی شي په تاسې باندې خالصې لمبې له اوره او په لوګی (سره ګډ، یا خالي له اوره) بیا به تاسې مدد نشئ کولی یو له بل سره په دفع د عذاب کښې.

**تفسیر:** یعنې کله چه په ګنهګارانو باندې د اور صافي لمبې او د لوګي سره ګډې لمبې پریښودې شي نو هیڅوک به د هغو مخه نشي نیولی او نه به ئې په دفع پوهیږي او نه به د هغې سزا کوم بدل او انتقام اخیستی شي.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٦﴾

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب د تاسې دروغ وایئ (او منکریږئ ترې ای انسانانو او پیریانو بلکه نشئ کیدی).

**تفسیر:** یعنې مجرمانو ته سزا ورکول او د هغوی د سزا بیان کول هم وفادارانو لره نعمت دی چه خلق د هغې د اوریدلو لامله (له وجې) له هغه جرم څخه ځان وژغوري (وساتي) نو دا یوه مستقل انعام دی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکي «په هر یوه آیت کښې مونږ ته یو نعمت راښوولی شوی دی چه ځینې ئې اوس نعمت دی او له ځینو څخه خبر ورکول هم نعمت دی تر څو له هغه څخه مونږ ځان وژغورو (وساتو) ».

فَإِذَا انشَقَّتِ السَّمَاءُ فَكَانَتْ وَرْدَةً كَالدِّهَانِ ﴿٣٧﴾

بیا کله چه وچوی څیرې شي آسمان نو وبه ګرځي ګل سور رنګ لکه سرې څرمنې (یا د زیتون تیل).

**تفسير:** يعنى د قيامت په ورځ ښكبنى به آسمان وچوى او رنګ به ئى لكه سره ځرمن غوندى بريښى يا به په شان د تيلو د زيتون ځليدونكى پرقيدونكى وى نو دا به څه لوى هيبت وى.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٨﴾ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُسْأَلُ عَن ذَنبِهِ إِنسٌ وَلَا جَانٌّ ﴿٣٩﴾

پس په كوم يوه نعمت د نعمتونو د رب د تاسى دروغ وايئ (او منكريږئ ترى اى انسانانو او پيريانو بلكه نشئ كيدى) نو په دغه ورځ (د چاوديدلو ځيريدلو د اسمان) ښكبنى نه به پوښتيدل كيږى له ګناه د دوى نه (نه) له انسانانو او نه له پيريانو.

**تفسير:** يعنى له كوم سړى يا پيرى څخه به د هغه د ګناه د معلوم‌ولو په نسبت څه پوښتنى نه كيږى. ځكه چه الله تعالىٰ ته هغه ټول ځرګند دى. هو! د الزام او توبيخ او ويرولو په ډول (طريقه) به پوښتنى ورځنى كوى لكه چه د جزء ١٤ (حجر) د سورت په (٦) ركوع ٩٢ آيت ښكبنى داسى راغلى دى ﴿فَوَرَبِّكَ لَنَسْأَلَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ﴾ يا دا مطلب چه له قبر څخه د وتلو په وقت ښكبنى هسى پوښتنى نه كيږى او له هغه څخه وروسته پوښتنه له هغه څخه منافى نه ده.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٠﴾ يُعْرَفُ الْمُجْرِمُونَ بِسِيمَاهُمْ

پس په كوم يوه نعمت د نعمتونو د رب د تاسى دروغ وايئ (او منكريږئ ترى اى انسانانو او پيريانو بلكه نشئ كيدى) پيژندل كيږى ګنهګاران (كافران) په علامو نښو د دوى سره.

**تفسير:** يعنى د بڼو (ځيرو) له توروالى او د سترګو د شينتوب به مجرمان پخپله پيژندل كيږى. لكه چه مؤمنان مسلمانان به د اوداسه او لمانځه د نښو په لرلو سره له لرى هر چاته ښكارى او د عباداتو انوار او آثار د هغوى سينګار زياتوى.

فَيُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِي وَالْأَقْدَامِ ﴿٤١﴾

نو وبه نيولى شى (دغه منكران) په (ويښتو د) وچولى (تندى) سره او په

قدمونو سره (او وبه غورځولی شي په اور کښې).

**تفسیر:** یعني ځینې به له پیکیو (موی پیشانی) څخه او ځینې به له پښو څخه نیسي، په دوزخ کښې به ئې اچوي او په راښکودلو سره ئې د اور په لوري کش کوي. یا د هر مجرم پندۍ او هډوکي ماتاوه شي او د هغوي وچولي (تندی) له پښو سره یو ځای کاوه شي او په ځنځیرونو او نورو سره ئې ترلي په دوزخ کښې غورځاوه شي.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٢﴾ هَٰذِهِ جَهَنَّمُ الَّتِي يُكَذِّبُ بِهَا الْمُجْرِمُونَ ﴿٤٣﴾

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب د تاسي دروغ وایئ (او منکریږئ ای انسانانو او پیریانو بلکه نشئ کیدی) دا دوزخ دی هغه چه دروغ به ئې ویل په ده سره مجرمانو (کافرانو).

**تفسیر:** یعني هلته به داسي ورته ویل کیږي چه دا هغه دوزخ دی چه په دنیا کښې ته د هغه له وجود څخه منکر وی.

يَطُوفُونَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ حَمِيمٍ آنٍ ﴿٤٤﴾

ګرځي به دوی په منځ د دوزخ او په منځ د اوبو ډیرو تودو ډیرو ګرمو کښې.

**تفسیر:** یعني کله به د اور او کله به د ډیرو تودو او ایشیدلو اوبو عذاب مومي **(اعاذنا الله منها ومن سائر انواع العذاب)** « ای لویه څیښتنه! (خاونده) له دی دوو ربړو (تکلیفونو) او له نورو ربړو (تکلیفونو) څخه مو تل وساتې!».

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٥﴾ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ ﴿٤٦﴾

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب خپل دروغ وایئ (او منکریږئ تری ای انسانانو او پیریانو بلکه نشئ کیدی). او هغه لره چه ویریږي (په وقت د ګناه کښې) له ودریدلو څخه په مخ د رب خپل کښې (حساب ته) دوه جنتونه دي.

**تفسیر:** یعني هغه سړی چه په دنیا کښې له دی خبری څخه ویریده چه زه به یوه ورځ د خپل

پاک پروردګار په مخ کښې ودریږم او د یوی یوی ذری او ککی شمیر به ورکوم او له دی ویری څخه به ئې د الله تعالیٰ له نافرمانۍ څخه ځان ساته او د تقویٰ په سمه لاره باندی به ئې تګ کاوه نو ځکه هسی سریو ته دوه عالیشان جنتونه ورکول کیږی چه د هغو صفتونه لاندی راځی.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٧﴾ ذَوَاتَا أَفْنَانٍ ﴿٤٨﴾

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب د تاسی دروغ وایئ (او منکریږئ تری ای انسانانو او پیریانو بلکه نشئ کیدی). (هسی جنتونه) چه خاوندان د ډیرو ډیرو څانګو دی.

**تفسیر:** یعنی په جنت کښې د مختلفو اقسامو راز راز (قسم قسم) میوی به وی او د ونی څانګی به ډیری میوی او ښه سیوری لری.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٩﴾ فِيهِمَا عَيْنَانِ تَجْرِيَانِ ﴿٥٠﴾

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب د تاسی دروغ وایئ (او منکریږئ تری ای انسانانو او پیریانو بلکه نشئ کیدی). په دی دواړو (جنتونو) کښې به دوه چینی وی چه بهیږی به (هر چیرته ئې چه غواړی دوی).

**تفسیر:** چه اوبه ئې نه لږی کیږی او نه وچیږی او تل بهیدونکی دی او هر چیری چه د دی جنتی زړه وغواړی هلته ځی د دغو چینو نومونه دا دی «تسنیم» او «سلسبیل».

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥١﴾ فِيهِمَا مِن كُلِّ فَاكِهَةٍ زَوْجَانِ ﴿٥٢﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥٣﴾ مُتَّكِئِينَ عَلَىٰ فُرُشٍ بَطَائِنُهَا مِنْ إِسْتَبْرَقٍ ۚ

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب د تاسی دروغ وایئ (او منکریږئ تری ای انسانانو او پیریانو بلکه نشئ کیدی) په دی دواړو (جنتونو) کښې به له هری میوی (آشنا ناآشنا وچه لمده او نور) دوه دوه قسمه وی پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب د تاسی دروغ وایئ (او تری منکریږئ ای انسانانو او پیریانو بلکه نشئ کیدی) پر هسی فرشونو باندی چه استرونه د

هغو به له وریښمو کلکو څخه به وی

تفسیر: کله چه د هغه استر له کلکو وریښمو څخه وی نو له هغه څخه دی اټکل او قیاس وکړ شی چه د هغه مخ به له څه نرم او پاسته وریښمین او ښه توکی څخه وی؟

وَجَنَا الْجَنَّتَيْنِ دَانٍ ﴿٥٤﴾

او انول (شوکول) (د میوی د دغو) دوو جنتونو به تر لاس لاندی وی.

تفسیر: چه د هغو انول (شوکول) دانه دانه کول به ډیر آسان وی په ولاړه ـ ناسته ـ ملاسته او په هر یوه حالت او ډول (طریقه) چه جنتیان وغواړی تولولی ئی شی او له هغو څخه په زړه پوری خوند اخیستی شی.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥٥﴾ فِيهِنَّ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ ﴿٥٦﴾

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب د تاسی دروغ وایئ (او منکریږئ ای انسانانو او پیریانو بلکه نشئ کیدی) په دغو (جنتونو) کښی به بند کوونکی د سترګو (حوری) وی چه نه وی مسه کړی دوی لره انسان پخوا له دغو (جنتیانو میرو (خاوندانو) خپلو) او نه پیری.

تفسیر: یعنی د هغو عصمت ته د هیچا ګوته نه ده رسیدلی او نه دوی پرته (علاوه) له خپلو میرو (خاوندانو) څخه د نورو په لوری خپلی سترګی غړوی.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥٧﴾ كَأَنَّهُنَّ الْيَاقُوتُ وَالْمَرْجَانُ ﴿٥٨﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥٩﴾

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب د تاسی دروغ وایئ (او منکریږئ ای انسانانو او پیریانو بلکه نشئ کیدی) ګواکی دغه (حوری) یاقوت لعل وی

(په صفائی) او مرجان وی (په سپین والی کښی). پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب د تاسی دروغ وایئ (او منکریږئ تری ای انسانانو او پیریانو بلکه نشئ کیدی).

**تفسیر:** یعنی هسی خوشرنگی او بیش بها او قیمتداری به وی.

هَلْ جَزَآءُ الْاِحْسَانِ اِلَّا الْاِحْسَانُ ﴿٦٠﴾

نه ده جزاء بدل د احسان نیکی مگر احسان نیکی ده.

**تفسیر:** یعنی د ښو بندگانو بدل پرته (علاوه) له ښه ثوابه بل څه کیدی شی؟ دی جنتیانو په دنیا کښی د الله تعالیٰ داسی ډیر ښه عبادتونه کری ؤ گواکی هغوی الله تعالیٰ پخپلو سترگو سره لیدو او الله تعالیٰ هم هغوی ته انتهائی بدل ورکړ. لکه چه د سجدی د سورت په دوهمه رکوع کښی راغلی دی ﴿ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ اُخْفِیَ لَهُمْ مِّنْ قُرَّةِ اَعْیُنٍ ﴾ ښائی په دی کښی د هم دی لیدو دولت ته اشاره او نغوته وی والله اعلم.

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٦١﴾ وَمِنْ دُوْنِهِمَا جَنَّتٰنِ ﴿٦٢﴾

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب د تاسی دروغ وایئ (او منکریږئ تری ای انسانانو او پیریانو بلکه نشئ کیدی) او بی له دغو (دوو جنتونو) دوه جنتونه نور هم دی.

**تفسیر:** ښائی ورانلنی باغ مقربینو لره وی او دا دوه باغونه ښو ډلو (اصحاب یمین) لره وی.

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٦٣﴾ مُدْهَآمَّتٰنِ ﴿٦٤﴾

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب د تاسی دروغ وایئ (او منکریږئ تری ای انسانانو او پیریانو بلکه نشئ کیدی) تک تور به وی (له ډیر شینوالی څخه).

**تفسیر:** یو څیز چه ډیر زیات شین شی توروالی ته اوړی.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦٥﴾ فِيهِمَا عَيْنَانِ نَضَّاخَتَانِ ﴿٦٦﴾
فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦٧﴾ فِيهِمَا فَاكِهَةٌ وَنَخْلٌ وَرُمَّانٌ ﴿٦٨﴾

پس په کوم يوه نعمت د نعمتونو د رب د تاسی دروغ وايئ (او منکريږئ ترى اى انسانانو او پيريانو بلکه نشئ کيدى) وى به په دغو (جنتونو) کښى دوه چينى جوش وهونکى پس په کوم يوه نعمت د نعمتونو د رب د تاسى دروغ وايئ (او منکريږئ ترى اى انسانانو او پيريانو بلکه نشئ کيدى) وى به په دغو (دوه جنتونو) کښى هر راز (قسم) ميوى او خرما او انار.

**تفسير:** خو د دنيا په نرګسو (انارو) او کجورو (خرماؤ) باندى دى قياس ونه کړل شى ولى چه د هغو ميوو کيفيت او خنګوالى بل رنګ دى او يوائى پاک الله ته معلوم دى.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦٩﴾ فِيهِنَّ خَيْرَاتٌ حِسَانٌ ﴿٧٠﴾

پس په کوم يوه نعمت د نعمتونو د رب د تاسى دروغ وايئ (او منکريږئ ترى اى انسانانو او پيريانو بلکه نشئ کيدى) وى به په دغو (تولو جنتونو) کښى حورى پيمخى نيکى ښائسته.

**تفسير:** يعنى په دغو خلور واړو جنتونو کښى به پيغلى وى ښى رښى پيمخى پيمخى ښکلى (خوبصورت خوب سيرت).

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧١﴾ حُورٌ مَّقْصُورَاتٌ فِي الْخِيَامِ ﴿٧٢﴾

پس په کوم يوه نعمت د نعمتونو د رب د تاسى دروغ وايئ (او منکريږئ ترى اى انسانانو او پيريانو بلکه نشئ کيدى) حورى به وى پتى کړى شوى په خيمو کښى.

**تفسير:** له دى څخه راښکارى چه د ښځى لويه بزرګى او صفت ستر او پرده ده او ښځى اصلى دول او سينګار په کور او په پرده کښى دى. او ښائى چه پخپلو کورونو کښى درنى لکه مرغلرى ناستى وى.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧٣﴾ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ ﴿٧٤﴾
فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧٥﴾ مُتَّكِئِينَ عَلَىٰ رَفْرَفٍ خُضْرٍ وَعَبْقَرِيٍّ
حِسَانٍ ﴿٧٦﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧٧﴾ تَبَارَكَ اسْمُ رَبِّكَ ذِي
الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ ﴿٧٨﴾

---

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب د تاسی دروغ وایئ (او منکریږئ تری ای انسانانو او پیریانو بلکه نشئ کیدی) چه نه به وی مسه کړی دوی لره سړی پخوا له دغو (جنتیانو میرو (خاوندانو) خپلو) او نه پیری. پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب د تاسی دروغ وایئ (او منکریږئ تری ای انسانانو او پیریانو بلکه نشئ کیدی) تکیه کوونکی به وی دوی پر بالښتونو شین رنګو باندی او په فرشونو نفیسو عمده ؤ ښائسته ؤ باندی پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب د تاسی دروغ وایئ (او تری منکریږئ ای انسانانو او پیریانو بلکه تری منکریدی نشئ چه دا د الله له جانبه نه دی). برکت ناک دی نوم د رب ستا چه خاوند د لوئی سترتوب او د عزت ورکولو انعام دی.

---

**تفسیر:** یعنی هغه څوک چه په خپلو وفادارانو باندی دومره احسان او انعام فرمائی نو غور وکړئ چه په ګردو (تولو) نعمتونو کښی اصلی ښه والی د ده د پاک نامه له برکته په لاس راځی او د ده د نوم اخیستلو په وسیله دا نعمتونه حاصلیږی. بیا وپوهیږئ په هغه نامه کښی چه دومره برکت وی نو په مسمی کښی به ئی څومره برکات او حسنات وی.

**ونسأل الله الکریم الوهاب ذاالجلال والاکرام ان یجعلنا من اهل الجنة الاولین آمین.**

**تمت سورة الرحمٰن بفضل الله الملک المنان فله الحمد والمنة.**

سورة الواقعة مكية الا آيتى (٨١) و (٨٢) فمدنيتان وهى ست وتسعون آية وثلٰث ركوعات رقمها (٥٦) تسلسلهاحسب النزول (٤٦) نزلت بعد سورة «طٰه».

د «الواقعة» سورت مكى دى بى له (٨١ ؤ ٨٢ آيتونو چه په مدينه كښې نازل شوى دى (٩٦) آيتونه او درى ركوع لرى.

په تلاوت كښې (٥٦) او په نزول كښې (٤٦) سورت دى وروسته د (طٰه) د سورت څخه نازل شوى دى.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

شروع كوم په نامه د الله چه ډير زيات مهربان پوره رحم لرونكى دى

إِذَا وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ﴿١﴾ لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ ﴿٢﴾

كله چه واقعه شى واقع كيدونكى (قيامت) نشته پيښيدلو د هغى لره هيڅ نفس دروغ كوونكى (او انكار كوونكى لكه چه به ؤ ترى منكر په دنيا كښې).

**تفسير:** يعنى كله چه قيامت شى نو دا به ښكاره شى چه هغه يوه رښتيا خبره وه او هيڅوك ئى مخه نشى نيولى او نه ئى بيرته شرلى شى او هسى دعوى چه الله تعالىٰ مرى نه ژوندى كوى او نور ګرد (تول) دروغ ثابتيږى. هيڅوك د دروغو په تسلى او په غلطو دادينو (تسلو) د هغى ويروونكى ورځى له ربړو (تكليفونو) او عذابونو څخه څه خيز نشى لږولى.

خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ﴿٣﴾

(قيامت) ښكته كوونكى دى (د كفارو په جحيم) پورته كوونكى دى (د ابرارو په نعيم).

**تفسير:** يعنى يوه ډله به پورته بيوله كيږى او بله ډله به ښكته شړله كيږى او لوى متكبران چه په دنيا كښې دوى خپل ځانونه لوى ګڼل د اسفل السافلين په لورى راښكودل شى او د دوزخ په اور كښې به سوځى او ډيرو متواضعينو او له الله تعالىٰ څخنى ويريدونكيو ته به چه په دنيا كښې به وړوكى او حقير ښكاريدل د ايمان او صالح عمل په وسيله د جنت لوړ (اوچت) ځايونه وربښل كيږى.

إِذَا رُجَّتِ الْأَرْضُ رَجًّا ﴿٤﴾ وَبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا ﴿٥﴾ فَكَانَتْ هَبَاءً مُّنْبَثًّا ﴿٦﴾

کله چه وخوځولی شی ځمکه په لړځولو سختو سره او وریژول شی غرونه په ریژولو سختو سره (داسی چه توتی توتی شی) نو شی به دا غرونه یوه دوړه خوره کړی شوی.

**تفسیر:** یعنی په ځمکه کښی به سخته ریږدیدنه (زلزله) پیدا شی او گرد (تول) غرونه به توتی توتی شی او له بڅرکو څخه به ئی هسی دوړی او گردونه پورته کیږی چه توله دنیا به په هغه کښی ډوبیږی.

وَكُنْتُمْ أَزْوَاجًا ثَلَاثَةً ﴿٧﴾

او شی به تاسی صنفونه دری (دوه جنتیان او یو دوزخیان).

**تفسیر:** یعنی د قیامت له وقوع څخه وروسته گرد (تول) خلق په دری برخو ویشل کیږی ـ دوزخیان ـ عام جنتیان او د مقربینو خواص چه د جنت په اعلیٰ درجاتو رسیږی وروسته د دی دری واړو ذکر په مجمل ډول (طریقه) سره راځی ـ او بیا د هغو احوال په تفصیل سره بیانیږی.

فَأَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ ۙ مَا أَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ ﴿٨﴾

پس یاران ملگری د ښی لاس خومره ښه دی یاران ملگری د ښی لاس.

**تفسیر:** یعنی هغه خلق چه د عظیم عرش په ښی خوا کښی وی او هغوی د میثاق اخیستلو په وقت کښی هم د آدم علیه السلام له ښی خوا څخه ایستلی شوی ؤ او د هغوی اعمالنامی هم د هغوی په ښی لاس کښی ورکولی کیږی او پرښتی ئی هم د دوی له ښی لاس څخه اخلی نو هغه ورځ د دوی ښه والی او برکت ډیر زیات او د دوی مرتبه به ډیره لوړه (اوچته) وی. ځمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم د معراج په شپه کښی د هم دوی په نسبت داسی یوه ننداره کړی وه چه آدم علیه السلام به کله چه خپل ښی لاس ته کاته نو مسکیدل او تبسم به ئی کاوه او کله چه به ئی خپل کیڼ لاس ته کتل نو له ژړا پوری راوری کیده. نو دغه اصحاب الیمین خورا (ډیر) ښه نیک بختان دی او د داسی ښو درجو او نعمتونو خاوندان دی چه هر څوک پری تعجب کوی.

وَأَصْحٰبُ الْمَشْـَٔمَةِ ۙ مَآ أَصْحٰبُ الْمَشْـَٔمَةِ ۝٩

او یاران ملګری د کیڼ لاس څومره بد سپک دی یاران ملګری د کیڼ لاس.

**تفسير:** یعني دا خلق د آدم علیه السلام له کیڼی خوا څخه ایستلی شوی او د عرش عظیم په کیڼی خوا کښې ودرول شي او د دوی اعمالنامی هم په کیڼ لاس کښې ورکولی کیږی او پرښتی ئی د هغوی له کیڼ لاس څخه کش کوی نو دوی ډیر بدبخت او په ډیرو ربړو (تکلیفونو) او نحوستونو اخته دی. چه هر څوک پری تعجب کوی.

وَالسّٰبِقُوْنَ السّٰبِقُوْنَ ۝١٠ أُولٰٓئِكَ الْمُقَرَّبُوْنَ ۝١١ فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ۝١٢

او ړومبی کیدونکی (حسناتو ته) هم دوی ړومبی کیدونکی دی (جنت ته) هم دوی نژدی کړی شوی دی (الله ته) په جنتونو د نعمتونو کښې به وی.

**تفسير:** یعنی هغه خلق چه په دنیا کښې د علمیه ؤ او عملیه ؤ کمالاتو او د تقویٰ د مراتبو لامله (له وجی) وړاندی وی نو په آخرت کښې به هم د ښی لاس له ډلی څخه وړاندی تیریږی او لوړو (اوچتو) مرتبو ته خیژی نو دوی به د الله تعالیٰ په رحمتونو او تقرب او وجاهت په مراتبو کښې له ګردو (تولو) څخه په مخ کښې وی. او ابن کثیر رحمة الله علیه وائی چه دا خورا (ډیر) منلی سری به پیغمبران رسولان ـ صدیقان ـ شهیدان وی چه الله تعالیٰ ته به مخامخ ودریږی.

ثُلَّةٌ مِّنَ الْأَوَّلِيْنَ ۝١٣ وَقَلِيْلٌ مِّنَ الْاٰخِرِيْنَ ۝١٤

لویه ډله به وی له اولینو ړومبنیو څخه او لږ دی له آخرینو وروستنیو څخه.

**تفسير:** حضرت شاه صاحب لیکی «ړومبی ئی ړومبنی امتونه یاد کړل او وروسته ئی دا (محمدی) امت یاد کړ یا به له وړاندی او وروسته څخه د هم دی محمدی صلی الله علیه وسلم امت مقدم او مؤخر کسان مراد وی یعنی اعلیٰ درجه سری پخوا ډیر ؤ او وروسته به لږ کیږی».

**تنبيه:** زیاترو مفسرینو د دی آیت په تفسیر کښې دا دواړه احتمالات بیان کړی دی خو حافظ ابن کثیر رحمة الله علیه دوهم احتمال ته ترجیح ورکړی ده او په روح المعانی کښې له طبرانی او نورو څخه د ابوبکره په سند حسن سره یو حدیث نقل کړی دی چه په هغه کښې نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د دی آیت په نسبت داسی فرمایلی دی «**هما جميعا من هذه الامة** ـ دا ګرد (تول) به له هم دی امت څخه وی» والله اعلم.

ابن كثير رحمة الله عليه له دی آیت څخه يو دريم مطلب هم اخيستی چه مونږ ته هغه غوره شکاری يعنی د هر امت په وړاندينيو پيړيو (طبقو) کښی د نبی د صحبت يا د قرب عهد له برکته اعلیٰ درجه مقربين هومره چه زيات وی په وروستنيو پيړيو کښی ئی دومره نه پاتی کيږی. په هم دی مضمون څمونږ د پاک پيغمبر څخه هم يو حديث داسی روايت شوی دی «**خير القرون قرنی ثم الذين يلونهم ثم الذين يلونهم**» هو! که د ابوبکره حديث صحيح وی لکه چه په روح المعانی کښی شته نو شکاره ده چه همغه مطلب به تاکلی (مقرر کړی) شی.

عَلٰى سُرُرٍ مَّوْضُوْنَةٍ ﴿١٥﴾

ناست به وی (جنتيان) په تختونو اوبدليو شويو جړاو کړيو شويو په زرو جواهرو باندی.

**تفسير:** چه دغه جنتی تختونه په سپنسو (تارونو) د سرو زرو (طلاؤ) او جواهرو سره اوبدلی شوی وی.

مُّتَّكِـِٕيْنَ عَلَيْهَا مُتَقٰبِلِيْنَ ﴿١٦﴾

چه تکيه وهونکی به وی (جنتيان) په هغو (تختونو) باندی مخامخ کيناستونکی يو بل ته.

**تفسير:** يعنی د دوی کيناستل به په داسی يو ډول (طريقه) سره وی چه د هيڅ يوه شا به د بل په لوری نه وی او يو به د بل په ليدلو سره خوشاليږی.

يَطُوْفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُوْنَ ﴿١٧﴾

ګرځی به په دوی باندی (دپاره د خدمت) هلکان تل پاتی کيدونکی (په هلکوالی سره).

**تفسير:** يعنی د دوی د خدمت دپاره به هسی هلکان تاکلی (مقرر) شوی وی چه تل به هغوی به همغه يوه صحيح او اندازه عمر او منګ وی او ګرځی به دغه هلکان پر دغو جنتيانو.

بِاَكْوَابٍ وَّاَبَارِيْقَ ۙ وَكَاْسٍ مِّنْ مَّعِيْنٍ ﴿١٨﴾ لَّا يُصَدَّعُوْنَ عَنْهَا وَلَا يُنْزِفُوْنَ ﴿١٩﴾

په ګلاسونو او په کوزو سره او په کاسو لوښيو سره له صافو پاکو شرابو بهيدونکيو څخه چه نه به سر خوږيږي له دغو (شرابو) او نه به بې هوشه کيږي چتي (بيکاره) وئيږي (تري).

**تفسير:** يعني ډير ښه او پاک شراب چه د هغو قدرتي چينې به په جنت کښې بهيږي او د هغو له څښلو څخه به نه په سر کښې خوږ پيدا کيږي او نه به ئې څښونکي چتي (بيکاره) او اپلتي خبرې کوي ځکه چه په هغو کښې به نشه نه وي او يوازې د خوښي ـ سرور ـ خوند ـ لذت او خوشالي څخه به ډک وي.

وَفَاكِهَةٍ مِّمَّا يَتَخَيَّرُونَ ۝٢٠ وَلَحْمِ طَيْرٍ مِّمَّا يَشْتَهُونَ ۝٢١

او (ګرځي به په دوي باندې هلکان په) ميوو له هغه راز (قسم) چه ئې خوښوي (جنتيان) او غوښو د مرغانو سره له هغه ډوله (قسمه) چه زړونه ئې غواړي.

**تفسير:** يعني هر کله ئې چه هره ميوه زړه وغواړي او هر راز (قسم) غوښه ئې چه خوښه وي بې له زحمته او تکليفه هغه ورته رسيږي.

وَحُورٌ عِينٌ ۝٢٢ كَأَمْثَالِ اللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُونِ ۝٢٣

او (ګرځي به په دغو جنتيانو باندې) حورې پيمخې غټې سترګې په شان د لؤلؤ مرغلرو ساتليو شويو په پوښو (غلافونو) کښې.

**تفسير:** يعني لکه صافي او پاکي مرغلرې غوندې چه د هيڅ ګرد او دوړو اثر او اغيزه به په کښې نه وي.

جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ۝٢٤ لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا تَأْثِيمًا ۝٢٥
إِلَّا قِيلًا سَلَامًا سَلَامًا ۝٢٦

جزاء بدل ورکول دی په هغو چه ؤ دوی چه کول به ئی (له حسناتو په دنیا کښې) نه به اوری دوی په دغه (جنت کښې) چټی (بیکاره) خبری او نه د گناه خبری مگر اوری یوه خبره سلام سلام (یعنی تل به سلام اچوی جنتیان یو په بل باندی په جنت کښې).

**تفسیر:** یعنی چټی (بیکاره) خبری ـ لغویات او واهیات به هلته بیخی نه وی او نه به څوک دروغ وائی او نه به پر چا باندی تهمت او تور تړل شی یواځی له هری خوا څخه د سلامونو غږونه پورته کیږی چه جنتیان به یو بل ته سلامونه اچوی او پرښتی به هم دوی ته سلامونه اچوی او د الله تعالیٰ سلامونه به هم دوی ته وررسیږی چه هغه خورا (ډیر) د عزت او احترام صورت لری او په ډیر اعزاز او اکرام سره اجرا کیږی او د سلام په دی ډیر والی کښې دی خبری ته اشاره ده چه وروسته له هغه چه تاسی دی ځای ته ورسیږی. له هر راز (قسم) ربړو (تکلیفونو) او مصیبتونو څخه ساتلی او گرد (تول) هلته له هر راز (قسم) پیښو څخه محفوظ ـ صحیح او سالم پاتی کیږئ او هیڅ قسم آزار ـ درد او مرگ به نه دررسیږی او له فناء څخه به د تل دپاره ساتلی یئ.

وَاَصۡحٰبُ الۡیَمِیۡنِ ۙ۬ مَاۤ اَصۡحٰبُ الۡیَمِیۡنِ ﴿۲۷﴾ فِیۡ سِدۡرٍ مَّخۡضُوۡدٍ ﴿۲۸﴾

او ملگری یاران د ښی لاس څومره ښه دی ملگری یاران د ښی لاس په بیرو بی اغزیو کښې به وی.

**تفسیر:** چه په راز راز (قسم قسم) خوندورو گلانو کښې پټی وی.

وَّطَلۡحٍ مَّنۡضُوۡدٍ ﴿۲۹﴾ وَّظِلٍّ مَّمۡدُوۡدٍ ﴿۳۰﴾

او په کیلو له بیخه تر سره ډکو کړیو شویو کښې به وی او په سیوریو اوږدو کړیو شویو همیشه ؤ کښې به وی.

**تفسیر:** یعنی نه د لمر تکلیف وی او نه د گرمی او نه د یخنی له لاسه کوم زحمت وررسیږی. نه به تیاره وی تل به هسی وقت وی لکه چه د لمر ختو له وقت څخه لږ څه پخوا وی. او هسی یو برابر او ښه اوږد سیوری وی چه ډیر گرندی آس به په پنځه سوو پرله پسی کلونو تگ سره نشی تری وتلی.

وَّمَآءٍ مَّسۡکُوۡبٍ ﴿۳۱﴾ وَّفَاکِهَةٍ کَثِیۡرَةٍ ﴿۳۲﴾ لَّا مَقۡطُوۡعَةٍ وَّلَا مَمۡنُوۡعَةٍ ﴿۳۳﴾

او په اوبو بهیدونکیو توئیدونکیو همیشه ۆ کښې به وي او په میوو ډیرو کښې به وي چه نه به قطع کولی کیږی په هیڅ وقت او نه به منع کولی کیږی په هیڅ عذر سره.

**تفسیر:** یعنی هر راز (قسم) میوی به وی چه پرته (علاوه) له جنتیانو څخه به هیچا ګوتی نه وی وروړی او نه به چا پری کړی وی او نه د دنیا د موسمی میوو غوندی وی چه کله وی او کله نه وی او نه به په کښې څه ډیل او انقطاع پیښیږی بلکه تل ښه او تاندی او خوندوری میوی موجودی وی او بلاممانعت او تکلف به هر وقت ورتقدیمیږی.

وَّفُرُشٍ مَّرْفُوعَةٍ ﴿٣٤﴾

او په فرشونو اوچتو کړیو شویو کښې به وی (په پالنګونو باندی).

**تفسیر:** یعنی خورا (ډیر) پریر (غټ) او جګ (وچت) به وی او له ظاهری او باطنی حیثیته به هم خورا (ډیر) ښه اعلیٰ عمده او هسک (اوچت) وی.

إِنَّا أَنشَأْنَاهُنَّ إِنشَاءً ﴿٣٥﴾ فَجَعَلْنَاهُنَّ أَبْكَارًا ﴿٣٦﴾ عُرُبًا أَتْرَابًا ﴿٣٧﴾ لِّأَصْحَابِ الْيَمِينِ ﴿٣٨﴾

بیشکه مونږ نوی پیدا کړی دی دغه حوری په یوه ښه پیدا کولو سره نو ګرځولی مو دی دوی بکری پیغلی عاشقانی (پر جنتیانو خاوندانو خپلو) همزولی (په خپل مابین کښې) دپاره د ملګرو یارانو د ښی لاس.

**تفسیر:** یعنی حوری او د دنیا ښځی چه په جنت کښې سره ګډیږی نو هلته د دی دنیا د ښځو پیدائش وده او ښائست به د الله تعالیٰ په قدرت هسی وی چه تل به پیمخی ـ پیغلی ښائسته او په زړه پوری وی او د هغوی خبری اتری طرز ـ اداء انداز او طبیعی مینه د خپلو میړو (خاوندانو) شوق ځان ته ورکش کوی. او تل به دوی د خپلو میړو (خاوندانو) سره همزولی هم منګی (هم عمر) او هم فکره وی.

ثُلَّةٌ مِّنَ الْأَوَّلِينَ ﴿٣٩﴾ وَثُلَّةٌ مِّنَ الْآخِرِينَ ﴿٤٠﴾

(اصحاب اليمين به) لويه ډله وي له اولينو ړومبنيو خلقو څخه او لويه ډله به وي له آخرينو وروستنيو خلقو نه.

تفسير: يعني اصحاب يمين په پخوانيو کښې هم ډير ؤ او په وروستنيو کښې به هم ډير وي.

وَأَصْحَابُ الشِّمَالِ مَا أَصْحَابُ الشِّمَالِ ﴿٤١﴾ فِي سَمُومٍ وَحَمِيمٍ ﴿٤٢﴾ وَظِلٍّ مِّن يَحْمُومٍ ﴿٤٣﴾ لَّا بَارِدٍ وَلَا كَرِيمٍ ﴿٤٤﴾

او ملګري ياران د کيڼ لاس څومره بد دي ملګري ياران د کيڼ لاس په اور تاوده کښې به وي او په سوځوونکيو اوبو کښې به وي او په سيوري کښې به وي د لوګي ډير تور چه نه به بيخي سړي وي او نه به د عزت راحت وي.

تفسير: يعني د دوزخ د اور تک تور لوګي به پورته کيږي او دوی به د هغه لوګي تر هغه سيوري لاندې ودرول کيږي چه هلته به دوی ته هيڅ يو جسماني او روحاني آرام او هوسائي (راحت) نه رسيږي. نه به يخني وررسيږي او نه به هغه د پت او عزت سيوري وي. ډير ذليل او خوار به د هغه سيوري تر سوځوونکي براس (بخار) لاندې په ريرو (تکليفونو) اخته وي. دا د هغوی د دنيوی خوشالي بدل دی چه هغوی د هغه په غرور او ضد سره د الله تعالیٰ او د هغه د رسول مخالفت کاوه.

إِنَّهُمْ كَانُوا قَبْلَ ذَٰلِكَ مُتْرَفِينَ ﴿٤٥﴾ وَكَانُوا يُصِرُّونَ عَلَى الْحِنثِ الْعَظِيمِ ﴿٤٦﴾

(دا عذابونه په سبب د دي ؤ چه) بيشکه دوی ؤ پخوا له دې څخه په دنيا کښې ودان کړي شوي په نعمتونو کښې خوشال او ؤ دوی چه دوام اصرار ضد به ئې کاوه پر ګناه لويه (کفر) باندې.

تفسير: هغه لويه ګناه ـ کفر او شرک او د انبياؤ تکذيب يا هسې دروغ قسمونه دي چه وائي

ئی «له مړینی څخه وروسته هیڅ کله بیا ژوندون نشته» لکه چه د جزء۱٤ (نحل) د سورت په پنځمه رکوع ۳۸ آیت کښی داسی یو آیت لولو ﴿ وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَا يَبْعَثُ اللَّهُ مَن يَمُوتُ ﴾

وَكَانُوا يَقُولُونَ أَئِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَامًا أَإِنَّا لَمَبْعُوثُونَ ﴿٤٧﴾ أَوَآبَاؤُنَا الْأَوَّلُونَ ﴿٤٨﴾

او ږ دوی چه ویل به ئی آیا کله چه مړه شو مونږ او شو خاوری او هدوکی آیا بیشکه مونږ به بیا خامخا راپورته کړی شو او پلرونه ځمونږ ړومبنی هم (به بیا ژوندی راپورته کیږی؟ بلکه نه کیږو!).

**تفسیر:** هغه مری هم ژوندی کیږی چه له مونږ څخه پخوا مره شوی دی یعنی دا خبره د چا په فکر او پوه کښی راتلی شی.

قُلْ إِنَّ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ ﴿٤٩﴾ لَمَجْمُوعُونَ إِلَىٰ مِيقَاتِ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ﴿٥٠﴾

ووایه ته (ای محمده! دوی ته) بیشکه چه ړومبنی (خلق) او وروستنی (خلق) به خامخا ګرد به تول کړل شی وقت د ورځی معلومی ته (چه قیامت دی).

**تفسیر:** یعنی د قیامت ورځ چه د هغی وقت یواځی الله تعالیٰ ته ښکاره دی او د ده په علم کښی مقرر او مقدر دی.

ثُمَّ إِنَّكُمْ أَيُّهَا الضَّالُّونَ الْمُكَذِّبُونَ ﴿٥١﴾ لَآكِلُونَ مِن شَجَرٍ مِّن زَقُّومٍ ﴿٥٢﴾ فَمَالِئُونَ مِنْهَا الْبُطُونَ ﴿٥٣﴾

بیا به بیشکه تاسی ای ګمراهانو دروغ ویونکیو خامخا خوړونکی به یئ (په دوزخ کښی) له ونی د زقوم څخه پس ډک کوونکی به یئ له هغی (ونی) څخه ګیډو خپلو لره.

**تفسیر:** یعنی کله چه د لوږی له لاسه ترهور (مضطرب) شی نو دا ونه دوی ته د خوړلو دپاره

ورکوله کیږی او دوی به له هغی څخه خپلی ګیډی ډکوی.

فَشٰرِبُوْنَ عَلَيْهِ مِنَ الْحَمِيْمِ ۝ فَشٰرِبُوْنَ شُرْبَ الْهِيْمِ ۝

پس څښونکی به يئ تاسی په هغه (زقوم خوړلی شوی) باندی له اوبو سوځوونکيو څخه پس څښونکی به يئ (په شان) د څښلو د اوښانو ډيرو تږو.

**تفسير:** يعنی هسی چه اوبښ په ډيره سخته ګرمی کښی د ډيری تندی له لاسه وروسته له دی چه څو ورځی ئی اوبه نه وی څښلی او بيا اوبو ته وروړسيږی نو اوبه په ډيره وارخطائی سره داسی څښی چه يو ځاځکی هم نه تری پاتی کيږی. دوزخيان به هم هم داسی هغه سوځوونکی اوبه څښی چه د هغوی خولی به تناکی او کولمی به ئی ټوټی ټوټی لويږی. (العياذ بالله).

هٰذَا نُزُلُهُمْ يَوْمَ الدِّيْنِ ۝

دا (خوړل او څښل چه ذکر شول) ميلمستيا د دوی ده په ورځ د جزاء انصاف کښی.

**تفسير:** يعنی د انصاف اقتضاء هم داسی ده چه د هغو منکرانو ميلمستيا هم دا راز (قسم) وکړه شی.

نَحْنُ خَلَقْنٰكُمْ فَلَوْلَا تُصَدِّقُوْنَ ۝

مونږ پيدا کړی يئ تاسی (له نشتوالی څخه) نو ولی تاسی باور يقين نه کوئ په ژوندون پس له مرګه.

**تفسير:** يعنی دا خبره ولی نه منئ چه پخوا هم پيدا کوونکی الله تعالیٰ دی او بيا هم پيدا کوونکی همغه الله تعالیٰ دی.

اَفَرَءَيْتُمْ مَّا تُمْنُوْنَ ۝ ءَاَنْتُمْ تَخْلُقُوْنَهٗۤ اَمْ نَحْنُ الْخٰلِقُوْنَ ۝

آيا وينئ تاسی (چه خبر راکړئ له) هغه اوبو څخه چه څڅوی ئی تاسی (آيا پر رحمونو د ښځو خپلو کښی) آيا پيدا کوئ تاسی له دغه (منی نه بشر)

که یو مونږ پیدا کوونکی (د تولو موالیدو بلکه ته ئی خالق ای الله).

**تفسیر:** یعنی د میندو په رحم کښې له نطفې څخه سرې څوک جوړوی هلته ستاسی هیڅ ظاهری تصرف نه چلیږی او د هیڅا یو ښکاره لاس نه وررسی او نه څه تصرف پکښې کولی شئ. بیا نو پرته (علاوه) له مونږ څخه بل څوک دی چه له هغه یوه څاځکی اوبو څخه هسی ښکلی شکل جوړوی؟ او بیا په هغې کښې سا او روح اچوی **(فتبارک الله احسن الخالقین والحمد لله رب العالمین).**

نَحْنُ قَدَّرْنَا بَيْنَكُمُ الْمَوْتَ

مونږ مقدر کړی مو دی په منځ ستاسی کښې (ای مخلوقاتو) مرګ .

**تفسیر:** یعنی ژوند ښټل ـ وژل او نوری ګردی (تولی) چاری ځمونږ په قدرت او قبضه کښې دی کله چه د وجود او د عدم واک او اختیار ځمونږ په لاس کښې دی نو وروسته له مړینې ژوندی کول هم مونږ ته کوم ګران کار نه دی.

وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوقِينَ ﴿٦٠﴾ عَلَىٰ أَنْ نُبَدِّلَ أَمْثَالَكُمْ وَنُنْشِئَكُمْ
فِي مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٦١﴾

او نه یو مونږ عاجز چه څوک تیری راباندی وکړی له دی نه چه پیدا کړو بدل ستاسی (نور خلق) پشان ستاسی او مونږ راپورته پیدا کړو تاسی په هغو (صورتونو سره) چه تاسی به علم نه پری لرئ.

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «یعنی تاسی به بلی نړی (جهان) ته بیایو او ستاسی په ځای به نور خلق ودروو.

وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ النَّشْأَةَ الْأُولَىٰ فَلَوْلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٦٢﴾

او خامخا په تحقیق پوهیدلی یئ تاسی په پیدا کیدلو ړومبنیو باندی نو ولی نه یادوئ پند نه اخلئ (د دغه الله تعالیٰ په قدرت او یقین نه کوئ په بیا

پیدا کولو باندی).

**تفسیر:** یعنی همغه ړومبنی پیدائش په یاد کړئ او د هغه له مخی او اتکله دا دوهم پیدائش هم قیاس کړئ!.

أَفَرَءَيْتُم مَّا تَحْرُثُونَ ﴿٦٣﴾ ءَأَنتُمْ تَزْرَعُونَهُۥٓ أَمْ نَحْنُ ٱلزَّٰرِعُونَ ﴿٦٤﴾

آیا پس وینئ (چه خبر راکړی ماته) هغه چه کرئ ئی تاسی. آیا تاسی زرغونوئ هغه (کرلی شوی) که مونږ یو زرغونوونکی (پخوونکی د هغه بلکه ته ئی ای الله).

**تفسیر:** یعنی په ښکاره ډول (طریقه) سره خو تاسی تخم شیندئ ولی دننه په ځمکه کښی د هغه پالل او د هغه زرغونول او له هغه څخه یو تک شین کښت (فصل) جوړول او بیا هغه ګټور (فائده مند) ګرځول د چا کار دی؟ د دی په نسبت خو تاسی ظاهری او سطحی دعوی هم نشئ کولی چه هغه ځمونږ تیار کړی شوی شی دی.

لَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنَٰهُ حُطَٰمًا فَظَلْتُمْ تَفَكَّهُونَ ﴿٦٥﴾ إِنَّا لَمُغْرَمُونَ ﴿٦٦﴾
بَلْ نَحْنُ مَحْرُومُونَ ﴿٦٧﴾

که اراده وفرمایو مونږ نو خامخا وبه ګرځوو مونږ هغه (کښت (فصل) لره چه کرلی دی تاسی بی دانه بی حاصله) وچ واښه ذره ذره نو وبه ګرځئ تاسی تعجب کوونکی او ویونکی د دی خبری بیشکه مونږ خامخا تاوان کړی یو (په زراعت خپل کښی) بلکه مونږ محروم بی برخی کړی شوی یو (له رزق نه).

**تفسیر:** یعنی د کښت (فصل) له پیدا کولو څخه وروسته د هغه محفوظ او باقی پاتی کیدل هم ځمونږ کار دی که مونږ وغواړو نو کوم یو آفت ورولیږو چه په هغه سره ګرد (تول) کښت (فصل) خاوری ایری شی او بیا به تاسی خپل سر پخپلو لاسونو نیولی ژاړئ او پخپلو منځونو کښی به سره ناست راز راز (قسم قسم) خبری به جوړوئ! او وایئ به چه خانه! تاته خو سړکال ډیر لوی تاوان او جنجال در رسیدلی دی که رښتیا پوښتنه کوئ نو زه بالکل خوار او فقیر او تش لاس پاتی شوی یم.

أَفَرَءَيْتُمُ الْمَاءَ الَّذِي تَشْرَبُونَ ﴿٦٨﴾ ءَأَنتُمْ أَنزَلْتُمُوهُ مِنَ الْمُزْنِ أَمْ نَحْنُ الْمُنزِلُونَ ﴿٦٩﴾

آیا پس وینئ (چه خبر راکړئ) تاسی اوبه هغه چه څښئ ئی تاسی (او ژوند پری تړلی دی) آیا تاسو نازلی کړی دی هغه لطیفی خوږی (اوبه) له سپینو وریځو څخه که مونږ نازلوونکی راښکته کوونکی یو (د هغو اوبو؟ بلکه ته ئی ای الله!).

**تفسیر:** یعنی باران هم څمونږ په حکم سره وریږی او د څمکی په خزانو کښی هغه اوبه هم مونږ تولوو آیا تاسی څه زور او قوت لرئ چه اوبه جوړی کړئ؟ یا ئی په زور او زاری له وریځو څخه وورویځ؟

لَوْ نَشَاءُ جَعَلْنَاهُ أُجَاجًا فَلَوْلَا تَشْكُرُونَ ﴿٧٠﴾

که اراده فرمایو مونږ نو وبه ګرځوو دا (اوبه) تروی ترخی نو ولی شکر نه وباسئ (تاسی په دغو نعماؤ).

**تفسیر:** یعنی که مونږ اراده وفرمایو نو خوږی اوبه ترخی کوو چه هیڅوک ئی ونشی څښلی او نه کښت (فصل) ته په کار ورشی بیا هم تاسی څما احسان نه منئ چه مونږ تاسی ته خوږی اوبه اوروو او د خوږو اوبو لوئی خزانی تاسی ته ساتو او له هغو څخه تاسی ته راز راز (قسم قسم) ګټی رسوو.

په څینو روایتونو کښی راغلی دی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم کله چه اوبه به ئی څښلی نو ویل به ئی

**(الحمد لله الذی سقانا عذبا فراتا برحمته ولم یجعله ملحا اجاجا بذنوبنا.** ابن کثیر**)**

أَفَرَءَيْتُمُ النَّارَ الَّتِي تُورُونَ ﴿٧١﴾ ءَأَنتُمْ أَنشَأْتُمْ شَجَرَتَهَا أَمْ نَحْنُ الْمُنشِئُونَ ﴿٧٢﴾

آيا پس وينئ (چه خبر راکړئ) تاسي د اور هغه نه چه بلوئ ئی تاسي (له هر راز (قسم) محروقاتو نه) آيا تاسي پيدا کړی ده ونه د دی (اور) او که مونږ پيدا کوونکی يو (د هغی ونی او د ټولو محروقاتو؟ بلکه ته ئی ای الله!).

**تفسير:** په عربو کښې داسي څو تکی شنی ونی دی چه د هغو د دوو لرګيو له سولولو څخه اور پيدا کيږی لکه چه په هندوستان کښې د بانس د ونی له سولولو څخه اور پيدا کيږی پخوا له دی نه د (يٰسين) د سورت په آخر کښې د دی په نسبت څه بيان ليکلی شوی دی يعنی په دی ونو کښې اور چا ايښی دی؟ تاسي که ما؟ (بلکه تا ايښی دی ای الله!).

نَحۡنُ جَعَلۡنٰهَا تَذۡكِرَةً

مونږ ګرځولی مو دی دغه (دنيوی اور) تذکره يادول (د دوزخ).

**تفسير:** يعنی دی اور ته وګورئ او د دوزخ اور ياد کړئ دا هم د هغه اور يوه برخه او ادنیٰ نمونه ده او فکر وهونکی لره دا خبره ور په ياديږی هغه الله چه له تکی شنی ونی څخه تک سور اور راوباسی هغه په يقين سره کولی شی او قادر دی چه مړی هم ژوندی کړی!.

وَمَتَاعًا لِّلۡمُقۡوِينَ ﴿٧٣﴾

او (ګرځولی دی مونږ دا اور نفعمن او) په کار راتللو ته دپاره د مسافرانو محتاجانو بی وځلو.

**تفسير:** يعنی د بيديا او ميدان اوسيدونکيو او پرديسيانو (مسافرانو) ته اور ډير په کاريږی په تيره بيا د ژمی او سړو په وقت کښې او پرته (علاوه) له دی څخه د نورو هم ډير په ښه ورځی او د مدنيت ډير امور پری مربوط دی.

**تنبيه:** د ځينو رواياتو په بناء پوهانو (علماؤ) دا ښه مستحب ګڼلی دی چه د دی آيتونو د هری استفهامی جملی له لوستلو څخه وروسته ښائی چه هسی وويل شی «**بل انت ياربی**»

فَسَبِّحۡ بِاسۡمِ رَبِّكَ الۡعَظِيمِ ﴿٧٤﴾

نو وکړه نسبت د پاکی نامه د رب خپل ته چه له ګردو (ټولو) ځنی ډير لوی دی (او تل شاکر اوسه په دغو نعماؤ ئی).

**تفسير:** یعنی هغه ذات چه داسی مختلف شیان او د کار وړ (لائق) خیزونه ئی پیدا کړی دی او خاص پخپل فضل او احسان ئی مونږ منتفع ګرځولی یو د هغه شکر اداء کول په کار دی او د کافرانو او منکرانو د هغو چتی (بیکاره) او اپلتو خبرو په مقابل کښی چه هغه الله تعالیٰ ته ئی نسبت کوی د هغه د مبارک نامه پاکی بیانول په کار دی د تعجب ځای دی چه دا خلق سره د داسی باهره ؤ آیاتونو او نښو د لیدلو بیا هم د هغه الله تعالیٰ په قدرت او وحدانیت باندی هسی چه ښائی نه پوهیږی.

فَلَآ أُقْسِمُ بِمَوٰقِعِ النُّجُومِ ﴿٧٥﴾

نو قسم خورم زه په ځایونو د پریوتلو د ستوریو باندی.

**تفسير:** او دوهمه معنی ئی دا ده چه قسم خورم د آیتونو په راښکته کیدلو د پیغمبرانو په زړونو باندی (موضح) یا د قرآنی آیتونو په راښکته کیدلو باندی له آسمانه پر ځمکی باندی چه لږ لږ او ورو ورو رانازلیږی.

وَإِنَّهُۥ لَقَسَمٌ لَّوْ تَعْلَمُونَ عَظِيمٌ ﴿٧٦﴾ إِنَّهُۥ لَقُرْءَانٌ كَرِيمٌ ﴿٧٧﴾ فِى كِتَٰبٍ مَّكْنُونٍ ﴿٧٨﴾ لَّا يَمَسُّهُۥٓ إِلَّا ٱلْمُطَهَّرُونَ ﴿٧٩﴾

او بیشکه (قسم) خامخا قسم دی که پوهیږئ تاسی عظیم ډیر لوی چه بیشکه دا (کتاب لوستی شوی په تا باندی) خامخا قرآن کریم عزت والا دی (چه لیکلی شوی دی) په کتاب پټ ساتلی شوی (لوح محفوظ) کښی چه نه ئی مسه کوی ده لره او نه دی ئی مسه کوی مګر هغه چه پاک کړی شوی وی (یعنی پاکان).

**تفسير:** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «یعنی پرښتی په دی پاک کتاب باندی لاس لګوی. هغه کتاب هم دا لیکلی شوی کتاب دی د پرښتو په لاسونو سره یا په لوح محفوظ کښی» ځینی د «لایمسه» ضمیر قرآن ته اړوی یعنی دی پاک قرآن ته لاس نه وروړی مګر خو پاک سړی یعنی هغه کسان چه زړونه ئی صاف او اخلاق ئی پاک وی د هم داسی سړیو فکرونه او عقلونه د دی لوی کتاب په علومو او حقائقو ـ معارفو او آیاتونو باندی هم په ښه ډول (طریقه) سره رسیږی. یا نه مسه کوی دا قرآن مګر خو پاک خلق. یعنی بی اودسه هغه ته لاس نه وروړی لکه

چه د نبوی له احادیثو څخه هم دا خبره ثابته شوی ده نو په دی تقدیر سره د (لایمسه) نفی به د نهی دپاره وی.

تَنْزِيْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ۝

(هغه قرآن چه ټوټه ټوټه) نازل کړی شوی دی له (طرفه د پالونکی) رب د عالمیانو.

**تفسیر:** یعنی دا کومی کوډی (جادو) او ټوکی نه دی او نه د کاهنانو چټی (بیکاره) او اپلتی خبری دی او نه د شاعرانو توهمات او مبالغات او هسکی استعاری دی بلکه یو لوی ـ مقدس ـ معزز ـ پاک او آسمانی کتاب دی چه د رب العٰلمین له لوری د ټول عالم او ګردو (ټولو) نړی والانو (اهل جهان) د لار ښوونی دپاره راښکته شوی دی. هغه الله تعالیٰ څمونږ پاک الله دی چه د لمر ـ سپوږمی او ستوریو ډیر کلک محکم ـ عجیب ـ غریب او ښکلی ترتیب او نظام ئی قائم کړی دی او هغه ګرد (ټول) سماوی اجرام د یوه مرتب قانون ـ او منظم اصول سره د خپلو ورځنیو ختلو او پریوتلو او نورو تأثیراتو او اغیزو سره د خپل عظمت ـ قدرت ـ قوت ـ وحدانیت تصرف او د عظیم الشان اقتدار مظاهری او په زړه پوری ننداری راښیی لکه چه ابراهیم علیه السلام هغه خپل دلیل ښوولی ؤ او د حال په ژبی سره شهادت ورکوی چه څمونږ ملونی او واک (اختیار) د هغه اعلیٰ اولیٰ ـ برتر ـ بهتر ذات د غیبی سلطی د قدرت په لاس کښی دی، همغه یو «**وحده لاشریک له**» د ځمکی ـ آسمان ـ وریځ ـ اور ـ هوا او ګردو (ټولو) کائناتو او ذراتو مالک ـ خالق او ستر ټولواک (شهنشاه) دی. آیا د هسی رڼو او ښکاره ؤ آسمانی نښو له لیدلو څخه وروسته د دی مضامینو په صداقت کښی کومه شبهه پاتی کیږی چه د دی سورت په اوله رکوع کښی د هغو بیان وشو. او آیا کوم یو عاقل په دی عظیم الشان فلکی نظام باندی چه سترګی وغړوی دومره نشی پوهیدلی چه یو بل باطنی شمسی نظام هم شته چه هغه هم دا قرآن کریم او د هغه پاک لوړ (اوچت) آیتونه او نور ګرد (ټول) آسمانی کتابونه او آسمانی پانی دی چه دا ګردی (ټولی) د همغه الله تعالیٰ خالق الکل قائمی کړی نښی دی هغه ذات چه پخپل کامل قدرت او رحمت سره ئی دا ظاهری نظام قائم کړی دی همغه پاک الله دی چه د روحانی ستوری له پریوتو څخه وروسته یی د محمدی صلی الله علیه وسلم قرآن د لمر په پلوشو نړی (دنیا) او نړی والان (دنیادار) د کفر او شرک له توری تیاری څخه راوویستل چه د الله تعالیٰ په فضل سره تر اوسه پوری دغه لمر خپلی ښکلی شوی پلوشی (انوار) او په زړه پوری وړانګی (اشعه) پر نړی (جهان) باندی نولی او هیڅوک د دی خبری مجال نه لری چه هغه بدل کړی یا ئی غائب کړی. د هغه انوار او اشعی پر همغو زړونو باندی په ښه شان سره منعکسی کیږی چه ښه وینځلی او ښه پاک او صاف کړی شوی وی.

أَفَبِهَٰذَا الْحَدِيثِ أَنتُم مُّدْهِنُونَ ﴿٨١﴾ وَتَجْعَلُونَ رِزْقَكُمْ أَنَّكُمْ تُكَذِّبُونَ ﴿٨٢﴾

آیا په دی خبری (د قرآن) باندی تاسی سپک کوونکی یئ (دروغ ئی گڼئ!) او گرځوئ تاسی روزی برخه خپله (له قرآنه دا خبره) چه تاسی دروغ کوونکی یئ (دغه قرآن لره).

**تفسیر:** یعنی آیا دا هسی دولت دی چه له هغه ځنی په گټه (فائده) اخیستلو کښی تاسی سستی او کاهلی وکړئ او خپله برخه هم دومره وگڼئ چه د الله تعالیٰ هغه راښوولی حقائق دروغ ثابتوئ؟ لکه چه د وریا (باران) د لیدلو په وقت کښی وائی چه هغه ستوری هغه برج ته راغلی دی نو ځکه وربښت وشو گواکی دوی د الله په قدرت قائل نه دی او په هسی وینا سره دوی د رحمت د دی باران قدر هم نه کوی چه د پاک قرآن په شکل رانازل شوی دی او دا ویل چه د الله تعالیٰ له خوا نه دی لیږلی شوی سخته بدبختی ـ حرمان او بدنصیبی ده آیا د یوه نعمت شکر گزاری هم داسی کیدی شی چه هغه دروغ وبللی شی؟

فَلَوْلَا إِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُومَ ﴿٨٣﴾ وَأَنتُمْ حِينَئِذٍ تَنظُرُونَ ﴿٨٤﴾ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنكُمْ وَلَٰكِن لَّا تُبْصِرُونَ ﴿٨٥﴾ فَلَوْلَا إِن كُنتُمْ غَيْرَ مَدِينِينَ ﴿٨٦﴾ تَرْجِعُونَهَا إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٨٧﴾

نو ولی په هغه وقت کښی چه ورسیږی (روح د سړی) ستونی ته او (حال دا وی چه) تاسی په دغه وقت حاضر اوریدونکی نظر کوونکی یئ هغه ته او مونږ ډیر نژدی یو هغه ته (په علم او قدرت) له تاسی ځخه مگر نه وینئ او نه پوهیږئ تاسی پس ولی که یئ تاسی چه جزاء نه درکوله کیږی او نه ژوندی کیږئ نو بیرته راوگرځوئ تاسی دا (روح) که چیری یئ تاسی رښتینی (په دی گمان خپل کښی چه جزاء نشته).

**تفسیر:** یعنی په داسی بیفکری او بیخوفی سره د پاک الله تعالیٰ خبری دروغجنی کوئ گواکی تاسی د چا په حکم او واک کښی نه یئ یا هیڅ نه مرئ او له الله تعالیٰ سره نه مخامخ کیږئ ښه ځه وقت چه ستاسی د کوم عزیز او محبوب سا په ختلو کښی وی او سا ئی په ستونی کښی بنده شی او د ځنکدن ربړونه (تکلیفونه) پری تیریږی که تاسی له هغه سره نژدی کینئ او د ده

هغه بې‌وځلي او بيچارګي پريشاني او سرګرداني وګورئ له بلې خوا الله تعالیٰ يا د هغه پرښتې له تاسې څخه هغه ته ډېرې نژدې دي چه تاسې ئې نه وينئ که ستاسې واک او اختيار د بل چا په لاس کښې نه دی نو په هغه وقت کښې تاسې د خپل هغه محبوب او مين سا او روح ولې نه شئ ساتلی؟ او د څه لپاره هغه مين او محبوب مو له تاسې څخه په داسې حال کښې چه ستاسې زړونه خوربېرې او اوښکې مو بهيرې بيلتون کوی او تاسې په خپل فراق او بيلتون ژړوی او ولې د ستاسې له لاسه پوره نه ده چه هغه د څه مودې له مخې نور هم وساتئ؟ يا ئې له هغه تکاليفو او ربړو (تکليفونو) څخه وژغورې (وساتی)؟ لنده ئې دا که تاسې پخپلو دغو ويناؤ کښې رښتينی يئ نو له دې تيرو چارو څخه يوه راوښيئ.

فَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ ٱلْمُقَرَّبِينَ ﴿٨٨﴾ فَرَوْحٌ وَرَيْحَانٌ وَجَنَّتُ نَعِيمٍ ﴿٨٩﴾ وَأَمَّآ
إِن كَانَ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلْيَمِينِ ﴿٩٠﴾ فَسَلَٰمٌ لَّكَ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلْيَمِينِ ﴿٩١﴾

نو که چيرې وی (دغه مړی) له مقربينو څخه (الله ته). نو (شته ده لره) راحت هوسائی (آرام) او ښه رزق او جنت ډک له نعمتونو څخه. او که چيرې وی (دا مړی) له يارانو ملګريو د ښی لاس. نو سلامتيا ده تا لره له يارانو ملګريو د ښی لاس څخه.

**تفسير:** يعنې تاسې د يوې شيبې (دقيقې) دپاره هم هغه نه شئ ساتلی او هغه خپل ځای ته هرومرو (خامخا) رسيدونکی دی که هغه مړی له مقربينو څخه وی نو په اعلیٰ درجه روحانی او جسمانی - د هوسائی (آرام) راحت عيش او چرچو سامانونو ته رسيږی او په ښی لاس (اصحاب يمين) کښې شامليږی او هيڅ يوه ويره او ربړونه (تکليفونه) ورته نه پاتې کيږی. حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليکی «يعنې د هغوی له لوری ډاډه (خاطر جمع) اوسه!» يا دا مطلب چه د (اصحاب يمين) له طرفه هغوی ته سلامونه رسيږی يا هغه ته ويل کيږی تا لره په راتلونکی وخت کښې سلامتی او هوسائی (آرام) ده. او ته په اصحاب يمين کښې شامل او ګډ ئې. په ځينو احاديثو کښې راغلې دی چه د ځنکدن په وقت کښې د خوښې داسې زيرې هغه ته ورکاوه شي.

د مؤمن سرې لويه نښه درته وايم
ځنکدن کښې تل مسکيږی ښکاری خوښ

او هم داسې مجرمينو او بدانو ته هم په هم دی وقت کښې د هغوی د بدحالی ويرې اوروليکيږی.

وَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ ٱلْمُكَذِّبِينَ ٱلضَّآلِّينَ ﴿٩٢﴾ فَنُزُلٌ مِّنْ حَمِيمٍ ﴿٩٣﴾ وَتَصْلِيَةُ جَحِيمٍ ﴿٩٤﴾

او که چیری وی (دغه مړی) له دروغ ویونکیو ګمراهانو څخه نو میلمستیا ده (ده ته) له سوځوونکیو اوبو څخه او ننه ایستل دی په اور (د دوزخ) کښې.

**تفسیر:** یعنی د هغه پای (آخر) او انجام هسې وی چه پخوا له مړ کیدلو څخه هغه ته د هغه راتلونکی حال احوال اوراوه کیږی.

إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ حَقُّ ٱلْيَقِينِ ﴿٩٥﴾

بیشکه دا خبره (چه ذکر شوه پشان د دی دری صنفو کښې) خامخا هم دا حقه یقینی ده.

**تفسیر:** یعنی ستاسی له تکذیب څخه هیڅ شی کیدونکی نه دی. هر هغه شیان چه د مؤمنانو او مجرمانو په نسبت خبر ورکړی شوی دی هغه ګرد (تول) صحیح او یقینی دی او هم هغسی کیدونکی دی نو هیچا ته نه ښائی چه په هسی ښکاره خبرو کښې داسی شبهې او تردد پیدا کړی او خپل ځان وغلوی. بلکه د لویی ورځی او د قیامت دپاره ځان تیار او چمتو کړئ.

فَسَبِّحْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلْعَظِيمِ ﴿٩٦﴾

پس وکړه نسبت د پاکی نامه د رب خپل ته چه له ګردو (تولو) څخه ډیر لوی دی.

**تفسیر:** یعنی په تسبیح او تحمید کښې مشغول اوسئ! چه دا د هغه ځای دپاره لویه تیاری ده. او په هم دی ښه چاره کښې بوخت (مشغول) اوسئ! او د مکذبینو د زړه خوږوونکیو خبرو څخه زیات مه خپه کیږئ! بلکه هیڅ غوږ ورته مه ږدئ ځکه چه په تسبیح او تحمید کښې د هغو باطلو او چټی (بیکاره) خیالاتو تکذیب او تردید په طبیعی دول (طریقه) سره هم کیږی. دلته د «الواقعة» د سورت په خاتمی کښې مو زړه غواړی چه هغه مبارک حدیث نقل کړو چه په هغه سره

حضرت امام بخاری رحمة الله علیه خپل کتاب ختم فرمایلی دی

**«عن ابی هریرة قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم کلمتان خفیفتان علی اللسان ثقیلتان فی المیزان حبیبتان الی الرحمٰن» ۔**

**«سبحان الله وبحمده سبحان الله العظیم»**

**تمت سورة الواقعة ولله الحمد والمنة**

---

سورة الحدید مدنیة وهی تسع وعشرون آیة و اربع رکوعات رقمها (٥٧) تسلسلهاحسب النزول (٩٤) نزلت بعد سورة الزلزاله

د «الحدید» سورت مدنی دی ۔ (٢٩) آیتونه او (٤) رکوع لری. په تلاوت کښی (٥٧) او په نزول کښی (٩٤) سورت دی د «الزلزال» له سورت څخه وروسته نازل شوی دی.

---

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

(شروع) په نامه د الله چه خورا (ډیر) مهربان ډیر رحم والا دی.

---

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ۚ

نسبت د پاکی کوی الله ته هغه چه په آسمانونو او په ځمکه کښی دی (سره له آسمانونو او ځمکو).

---

**تفسیر:** یعنی د حال یا د قال په ژبه یا په دواړو سره د الله تعالیٰ حمد ۔ ثناء او تسبیح وائی.

---

وَهُوَ الۡعَزِیۡزُ الۡحَکِیۡمُ ﴿۱﴾ لَهٗ مُلۡکُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ۚ یُحۡیٖ وَیُمِیۡتُ ۚ وَهُوَ عَلٰی کُلِّ شَیۡءٍ قَدِیۡرٌ ﴿۲﴾

او هم دغه (الله) ښه غالب قوی ښه حکمت والا دی. خاص دغه (الله) لره ده باچائی د آسمانونو او (باچائی) د ځمکی (هم دغه الله) ژوندی کول کوی

او مړه کول کوی او هم دغه (الله) په هر شی باندی (چه اراده وفرمائی) ښه قادر دی (چه ځینی ئی هم دغه ژوندی کول او مړه کول دی).

**تفسیر:** یعنی په آسمان او ځمکه یا په دواړه کښی یا هر چیری د الله تعالیٰ احکام چلیږی او هر چیری او هر کله واک او اختیار لری. د ایجاد او اعدام او د ګردو (تولو) چارو ملونی او قبضه د ده په لاس کښی ده هیڅ یو قوت او طاقت د هغه د تکوینی قدرت او تصرف مخه نشی نیولی.

هُوَ الْاَوَّلُ وَ الْاٰخِرُ

هم دغه (الله) اول دی (له هر شی څخه چه ابتداء نه لری) او آخر دی (له هر شی څنی چه انتهاء نه لری).

**تفسیر:** کله چه هیڅوک نه ؤ الله جل جلاله موجود ؤ او کله چه هیڅوک نه وی الله جل جلاله به موجود وی چه نه ابتداء لری نه انتهاء.

وَ الظَّاهِرُ وَ الْبَاطِنُ ۚ وَ هُوَ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمٌ ﴿۳﴾

او ظاهر دی (په دلیلونو سره) او باطن دی (پټ دی له لیدلو د سترګو نه په دنیا کښی) او هم دغه (الله) دی په هر شی باندی ښه عالم ښه پوهیدونکی.

**تفسیر:** د هر شی وجود او ظهور د هغه الله تعالیٰ له وجود څخه دی. نو ځکه د الله تعالیٰ وجود که ظاهر او باهر نه وی؟ نو د بل چا به وی؟ له عرشه نیولی تر فرش پوری او له ذری څخه اخیستی تر لمر او نورو لویو کرو پوری هر یو شی د هغه په وجود او شته والی باندی روښان دلیلونه دی او بیلی بیلی شاهدی لولی. خو سره له دی د هغه ذات او اصلی حقائقو او صفاتو ته هغسی چه ښائی عقل ـ پوه او ادراک نه ور رسیږی. او د ده د هیڅ یوه صفت احاطه کول هم امکان نه لری. او نه پخپل قیاس او ادراک سره څوک د هغه د څنګوالی (کیفیت) بیان کری شی. نو ځکه ویلی شو چه له هغه څخه زیات پټ او باطن بل څوک نشته. په هر حال سره هغه الله تعالیٰ د باندی هم دی او دننه هم دی ظاهر هم شته او په باطن کښی هم دی. او په هر راز (قسم) احوالو باندی که پټ دی یا ښکاره ښه خبردار او خورا (ډیر) پوه دی ظاهر د غالب په معنی هسی چه د هغه له پاسه هیڅ یو قوت نشته. باطن داسی چه له هغه څنی پرته (علاوه) هسی کوم ځای موقع به نه وی چه څوک به هلته تری پټ شی یا ئی له علمه او پوه څخه کوم شی لری

او پټ وی. د نبوی صلی الله علیه وسلم په حدیث کښې راغلی دی

«وانت الظاهر فلیس فوقک شئ! وانت الباطن فلیس دونک شئ».

هُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ

او دغه (الله) هغه ذات دی چه پیدا کړی ئی دی آسمانونه او ځمکه په مقدار د شپږو ورځو کښې (له ورځو د دنیا نه) بیا ئی استواء وکړه په عرش باندی (لکه چه له شانه د الوهیت د ده سره مناسبه وه)

**تفسیر:** دغه بیان پخوا له دی نه د «الاعراف» په سورت کښې د اتمی پاری په آخر کښې تیر شوی دی.

يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا

معلوم دی (الله ته) هغه څه چه ننوځی په ځمکه کښې (لکه مړی او باران) او هر هغه څه چی راووځی له دغه زمکی نه .

**تفسیر:** لکه کښت (فصل) او ترکودی (نباتات) چه له ځمکی څخه راوځی. د دی بیان د (سبا) په سورت کښې پخوا له دی تیر شوی دی.

وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا

او (معلوم دی الله ته) هر هغه چه نازلیږی له آسمانه (لکه رحمت او عذاب) او هر هغه چه پورته خیژی په دغه (آسمان) کښې لکه نیک او بد عملونه.

**تفسیر:** یعنی له آسمانه پرښتی ـ حکمونه ـ د قضاء او قدر فیصلی ـ وریا (باران) او نور راښکته کیږی او د بندګانو اعمال او د الله اکرم شانه واعظم برهانه پرښتی او نور پورته کیږی.

وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ ۚ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ④

او دغه (الله) له تاسی سره دی (په علم او قدرت سره) هر چیری چه یئ تاسی او الله پر هر هغه څه چه کوئ ئی تاسی ښه لیدونکی دی (نو جزاء به پری درکړی).

**تفسیر:** یعنی هیڅ کله له تاسی څخه غائب نه دی. بلکه هر چیری او په هر حال کښی چه تاسی یئ هغه ګرد (تول) دی ښه پیژنی. او تولی ښکاره او پتی خبری ښه اوری او ستاسی اعمال او نور ګرد (تول) شیان ښه وینی.

لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ⑤

خاص هغه (الله) لره ده باچائی سلطنت د آسمانونو او د ځمکی او خاص الله لره ګرځول کیږی تول کارونه.

**تفسیر:** یعنی منکران د الله تعالیٰ له باچائی او قلمرو څخه د باندی وتلی نشی - په ګردو (تولو) آسمانونو او ځمکه کښی یواځی د هغه وحده لا شریکله حکومت دی او په پای (آخر) کښی د ګردو (تولو) کارونو فیصله د ده له لوری کیږی.

يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ ۚ

ننه باسی (الله) شپه په ورځی کښی او ننه باسی (الله) ورځ په شپی کښی.

**تفسیر :** یعنی الله تعالیٰ کله ورځ لندوی او شپه اوږدوی (په قوس او جدی کښی) او کله په عکس د دی شپی لندوی او ورځی اوږدوی (په جوزا او سرطان کښی).

وَهُوَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ⑥

او دغه (الله) ښه عالم دی په پتو خبرو نیاتو عقائدو د سینو زړونو باندی هم.

**تفسیر:** یعنی په زړونو کښی هغه نیات او ارادی یا هغه خطری او وسوسی چه پیدا کیږی په هغو ګردو (تولو) باندی هغه ښه پوهیږی او هیڅ شی د ده له پوه څخه د باندی نه دی.

آمِنُوا بِاللّٰهِ وَرَسُولِهٖ وَاَنْفِقُوا مِمَّا جَعَلَكُمْ مُسْتَخْلَفِیْنَ فِیْهِ ط

ایمان راوړئ تاسي (او په ایمان همیشه اوسئ) په الله او په رسول د دغه (الله) باندې او لګوئ (په لاره د الله کښې) له هغو (اموالو) څخه چه ګرځولي يئ تاسو (الله) خلیفګان (د پخوانيو) په هغو (اموالو) کښې.

**تفسیر:** يعني هغه مال او شته چه ستاسي په لاسونو کښې شته د هغو ګردو (تولو) مالک او څيښتن (خاوند) پاک پروردګار دی او تاسي يوائحې د يوه امانتدار او خزانه‌دار په شان يئ نو ځکه په هر ځای او هر چا باندې چه هغه الله تعالیٰ تاسي ته د هغه د صرفولو او لګولو په نسبت امر وکړی په هم هغه ځای کښې ئې تاسي د هغه د نائب او خلیفه په ډول (طریقه) خرڅ او صرف کړئ او دا خبره مو هم په یاد وی چه پخوا له دی څخه دا مال د نورو په لاسو کښې ؤ خو اوس د هغوی په ځای تاسي يی او ښکاره ده چه تاسي به هم ځئ. ستاسي په ځای به هم بل سړی کیناستونکی وی کله چه دا خبره ښکاره شوه چه دا مال نه د پخوانيو په لاسو کښې پاتی شو او نه ستاسي په لاسو کښې پاتی کیدونکی دی نو له هسی فاني او زائل څيز سره دومره علاقه مينه او تعلق لرل چندان ښه کار نه دی او ښائي چه په ضروري او مناسبو ځايونو کښې په ښه ډول (طریقه) سره صرف او ولګول شي او نه ښائي چه په خير خيرات کښې بی زړه توب وکاوه شي.

فَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَاَنْفَقُوْا لَهُمْ اَجْرٌ كَبِیْرٌ ﴿۷﴾

پس هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی له تاسي او لګولي ئی دي (اموال خپل په لاره د الله کښې) هغوی لره دی اجر ثواب ډير لوی (په جنت کښې نو تاسو ته هم رسوی نفع ایمان او خرڅول د اموالو د تاسي).

**تفسیر:** نو ځکه ضروري ده په هغو کسانو کښې چه دا خصلت او صفت موجود نه وی ښائي چه هغه پيدا کړی او په هغو کښې چه شته ښائي چه په هغه باندې مستقيم پاتی وی او د ایمان په مقتضاء باندې تګ او عمل وکړی.

وَمَا لَكُمْ لَا تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ ۚ وَالرَّسُوْلُ یَدْعُوْكُمْ لِتُؤْمِنُوْا بِرَبِّكُمْ وَقَدْ اَخَذَ مِیْثَاقَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِیْنَ ﴿۸﴾

او څه مانع عذر دی تاسی لره (بلکه هیڅ مانع نشته) چه ایمان نه راوړئ په الله او رسول د دغه (الله) حال دا چه (رسول الله) رابولی تاسی چه ایمان راوړئ په رب خپل باندی او په تحقیق اخیستی ده (الله) وعده کلکه د تاسی که چیری یئ تاسی ایمان راوړونکی (نو ایمان ولی نه راوړئ؟).

**تفسیر:** یعنی په الله تعالیٰ باندی له ایمان راوړلو څخه یا د یقین او معرفت په لاری باندی له تللو څخنی کوم شیان ستاسی مخه نیسی؟ او په داسی چارو او معاملو کښی لتی سستی او تقاعد ولی وکړ شی. الله تعالیٰ او د هغه پاک رسول تاسی د کوم پردی (اجنبی) او غیر معقول څیز په خوا نه رابولی بلکه تاسی ته ستاسی د حقیقی رب او پالونکی په لوری بلنه کوی چه د هغه اعتقاد د ستاسی په اصلی فطرت کښی په ودیعت ایښود شوی دی او تاسی د هغه د ربوبیت اقرار پخوا له دی څخه چه دی دنیا ته راشئ کړی دی؟ لکه چه تر نن پوری د هغه اقرار اثر او اغیزه څه نه څه د بنی آدمانو په زړونو کښی موندله کیږی، بیا په دلائلو ـ براهینو او د رسولانو په ارسال او د آسمانی کتابونو په لیږلو سره د هغه ازلی عهد او پیمان تجدید او بیا په یادولو پرله پسی شوی دی او پخوانیو انبیاؤ له خپلو امتیانو څخنی داسی وعده او پیمان هم اخیستی ؤ چه د خاتم الانبیاء محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم اتباع دی هرومرو (خامخا) وکړی! او له تاسی څخه دیر سری هسی هم دی چه پخپله د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په مبارک لاس باندی د سمعی طاعت ـ انفاق فی سبیل الله او نورو ایمانی امورو باندی د تینګوالی او پابندی کلک عهد او تړون هم کړی دی نو وروسته له دی مبادیو څخه اوس څنګه کیدی شی هغه څوک چه د منلو اراده لری هغه ئی ونه منی او چا چه منلی دی له هغه څخه غاړه وغړوی او تری انحراف وکړی.

هُوَ الَّذِیْ یُنَزِّلُ عَلٰی عَبْدِهٖۤ اٰیٰتٍۭ بَیِّنٰتٍ لِّیُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَی النُّوْرِؕ وَ اِنَّ اللّٰهَ بِكُمْ لَرَءُوْفٌ رَّحِیْمٌ ۝۹

دغه (الله) هغه ذات دی چه نازلوی پر بنده خپل باندی دلائل (د قدرت خپل) ښکاره (لپاره د دی) چه وباسی تاسی له تیارو (د کفر) څخه رڼا (رڼرا) (د ایمان) ته او بیشکه الله په تاسی باندی خامخا ښه مهربان ډیر رحم والا دی.

**تفسیر:** یعنی قرآن ئی رانازل کړ او د صداقت لاری ئی دروښودی چه د هغو په وسیله تاسی د کفر او جهل له تیارو څخه ووځئ او د ایمان او علم او عمل رڼا (رڼرا) ته راشئ! او دا د پاک الله لوی شفقت او مهربانی ده که سختی ئی کولی نو تاسی به ئی په هم دی تیارو کښی پری

ښودئ تر څو په کښې مره شئ ـ يا به ئې د ايمان او يقين له راوړلو څخه وروسته ستاسې خطاوې او ګناهونه نه ښښل.

وَمَا لَكُمْ أَلَّا تُنْفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلِلَّهِ مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ

او څه مانع عذر دې تاسې لره چه نه نفقه کوئ نه لګوئ (مال خپل) په لاره د الله کښې او خاص الله لره دې ميراث د آسمانونو او د ځمکې.

**تفسير:** يعنې (مجازې) مالکان فنا کيږې ـ او ملک هغه حقيقې مالک ته چه الله تعالیٰ دې پاتې کيږې که نه هسې خو د تل دپاره هغه د ده مال ؤ ـ نو بيا د ده په مال کښې سم د ده له امر سره خرڅ کول او لګول ولې در نه ښکارې که په خپله خوښې او واک (اختيار) سره ئې نه ورکوئ نو بې واک هم هغه ته رسيدونکې دې نو د بندګۍ اقتضاء او غوښتنه هم دا ده چه په خوښې سره هغه ورورانډې کړئ! او د هغه په لاره کښې ئې خرڅ کړئ! ـ او د فقر ـ فاقې ـ افلاس او تنګې څخه ونه ويريږئ! ځکه چه د ځمکې او د آسمانونو د خزانو او د شتو مالک او څښتن (خاوند) پاک پروردګار دې. نو آيا په دې لارې کښې به پخپلې خوښې سره خرڅ کوونکې او لګونکې ورې پاتې کيږې !. **«ولا تخش من ذى العرش اقلالا»**.

لَا يَسْتَوِي مِنْكُمْ مَنْ أَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ

نه دې برابر له تاسې څخه هغه چه لګولې ئې دې (مال خپل په لاره د الله کښې) پخوا له فتحې (د حديبيې يا د مکې) څخه.

**تفسير:** ځينو له فتحې څخه د حديبيې صلحه روغه مراد کړې ده او له ځينو روايتونو څخه د هغه تائيد هم کيږې.

وَقَاتَلَ أُولَٰئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِنَ الَّذِينَ أَنْفَقُوا مِنْ بَعْدُ وَقَاتَلُوا وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَىٰ

او بيا ئې جنګ کړې دې (له اعداء الله سره لپاره د اعلاء د کلمة الله) دا

(لګوونکی د مالونو خپلو په لاره د الله کښې او جنګیدونکی پخوا له فتحې د حدیبیې یا د مکې نه) ډیر لوی دی له جهته د درجې مرتبې له هغو کسانو چه لګوی مال خپل په لاره د الله کښې وروسته (له فتح د مکې نه) او جنګیږی (لپاره د اعلاء د کلمة الله) او له دواړو طائفو سره وعده کړې ده الله د نیکۍ (جنت).

**تفسیر:** یعنی که هسې د الله تعالیٰ په لاره کښې هر مهال (وقت) هر شی خرڅ کړل شی او جهاد وکړ شی هغه ښه دی. او الله تعالیٰ به د هغه ډیر اجر په دنیا او آخرت کښې ورکوی لیکن هغه مقدور لرونکی چه له خپلو شتو څخه ئې پخوا د حدیبیې له روغې یا د مکې له برې فتحې څخه خرڅ کړی دی او د جهاد شرف ئې ګټلی دی هغوی ډیرې لوئې درجې موندلې دی او وروستنی مسلمانان د هغوی په درجو پورې نه شی رسیدلی ځکه چه په هغه وقت کښې د حق منونکی او په هغه باندې سر قربانونکی سړی ډیر لږ ؤ. او ګرده (توله) دنیا له کافرانو او باطلو خوښوونکیو څخه ډکه وه. په هغه وخت کښې اسلام جانی او مالی قربانی ته ډیره اړتیا او احتیاج درلود (لرلو). او مجاهدینو ته په ښکاره ډول (طریقه) د اسبابو ـ اموالو ـ غنائمو ـ وسلو ـ خوړو او نورو ضروریاتو هیلې (امیدونه) او توقعات ډیر لږ ؤ. په داسې حالاتو کښې ایمان راوړل او د الله او د هغه د رسول په لاره کښې د خپلو ځانونو او مالونو او شتو قربانول د دنیا د لویو اولوالعزمانو او د هغو لویو سریو کار دی چه د هغوی ثابت قدمی او ټینګتیا له غرونو څخه هم ټینګه کلکه وی. **فرضی الله عنهم و رضوا عنه ورزقنا الله اتباعهم وحبهم آمین!**

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿١٠﴾ ع

او الله په هغو کارونو باندې چه کوئ ئې تاسې ښه خبردار دی (نو جزاء به پرې درکړی).

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ له هر شی څخه خبر دی او پوهیږی چه د چا عمل څه درجه لری ؟ او د هغه د اخلاص وزن او تول څومره دی؟ نو له خپلې پوهې سره سم له هر یوه سره به بیله بیله معامله کوی.

مَنْ ذَا الَّذِيْ يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضٰعِفَهٗ لَهٗ وَلَهٗٓ اَجْرٌ كَرِيْمٌ ﴿١١﴾

څوک دی ذات هغه چه قرض ورکوی الله لره په قرض ورکولو نیکو سره نو بیا به (الله) دوچنده کړی (هغه قرض) ده لره او خاص ده ته اجر ثواب دی نیک (د عزت).

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «له پور (قرض) څخه دا مطلب دی چه په دی وقت کښی په جهاد باندی تاسی خپل مالون او شته ولګوئ بیا هم دا تاسی د ډیرو شتو خاوندان کیږئ او په آخرت کښی لوئی مرتبی او مرادونه مومئ! د دوه ګونی معنی هم هم دا ده. که نه د نوکر او بادار په منځ کښی هسی ګټی وټی (سود) نشته. که چا ته څه شی ورکوی مختیار دی او که نه ئی ورکوی هم هم دی مختیار او واکدار دی.»

يَوْمَ تَرَى الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ يَسْعَىٰ نُورُهُم بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَانِهِم

(یاده کړه ای محمده!) هغه ورځ (د قیامت) چه وینی ته مؤمنان سړی او مؤمنانی ښځی چه ځغلی به رڼا (رنړا) د دوی مخکښی له دوی څخه او له ښی خوا د دوی څخه.

**تفسیر:** د حشر په میدان کښی کله چه د (صراط) په پل تیریږی پس ډیره سخته توره تیاره وی نو په دی وخت کښی له هر چا سره د هغه د ایمان او ښه عمل رڼا (رنړا) وی. ښائی چه د ایمان رڼا (رنړا) چه ځای ئی زړه دی وړاندی وی او د ښو عملونو به په ښی خوا کښی وی ځکه چه ښی چاری ګردی (تولی) په ښی خوا کښی سره تولیږی د هر چا ایمان او عمل په هره درجه اندازه او میچ چه وی په هغه میچ درجه او اندازه سره به د هغه رڼا (رنړا) او روښانتیا هم وی. او ښائی چه د محمدی صلی الله علیه وسلم د امت رڼا (رنړا) به د نورو امتونو له رڼا (رنړا) څخه ډیره رڼه او ښه او ډیره سپینه او پلوشی غوړوونکی وی. په ځینو روایتونو کښی د مسلمانانو د کینی خوا د رڼا (رنړا) ذکر هم شته نو د هغه مراد به هسی وی چه د رڼا (رنړا) اغیزی او آثار هر لوری ته رسیږی. والله اعلم.

بُشْرَاكُمُ الْيَوْمَ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿١٢﴾

(او وبه ویل شی دوی ته چه) زیری د تاسی نن ورځ دی (ننوتل په) جنت چه بهیږی له لاندی (د مانیو او ونو) د هغو (ځلور قسمه) ویالی تل به وی دوی په هغو کښی دغه دی هم دغه بری موندل ډیر لوی.

**تفسیر:** ځکه چه جنت د الله تعالیٰ د خوښی ځای دی. هغه کسان چه جنت ته رسیږی ګواکی د هغو ګردو (تولو) مرادونه وررسیدلی دی.

يَوْمَ يَقُولُ الْمُنٰفِقُونَ وَالْمُنٰفِقٰتُ لِلَّذِينَ اٰمَنُوا انْظُرُونَا نَقْتَبِسْ مِنْ نُّورِكُمْ ۚ قِيلَ ارْجِعُوا وَرَآءَكُمْ فَالْتَمِسُوا نُورًا ۗ فَضُرِبَ بَيْنَهُمْ بِسُورٍ لَّهٗ بَابٌ ۗ بَاطِنُهٗ فِيهِ الرَّحْمَةُ وَظَاهِرُهٗ مِنْ قِبَلِهِ الْعَذَابُ ﴿١٣﴾

(یاده کړه ای محمده! هغه) ورځ چه وائی به منافقان سړی او منافقانی ښځی هغو کسانو ته چه ایمان ئی راوړی دی (داسی چه) وګورئ مونږ ته (انتظار وکړئ) چه رڼا (رڼړا) واخلو له رڼا (رڼړا) ستاسی نو وبه ویل شی دوی ته (تمسخراً) چه وګرځئ شاؤ خپلو ته پس ولټوئ رڼا (رڼړا) پس وبه واهه شی په منځ د دغو (منافقانو او مؤمنانو) کښی یو دیوال چه هغه لره به دروازه وی دننه طرف د هغی (دروازی کښی به چه د جنت په جانب دی) رحمت وی (مؤمنانو لره) او د باندی طرف ته د هغه (چه جانب د منافقانو دی) له طرفه د هغه څخه به عذاب وی.

**تفسیر:** یعنی د مؤمنانو او منافقانو په منځ کښی به یو لوی دیوال ودرول کیږی چه په هغه کښی به یو ور وی له دی وره به مؤمنان د جنت په لوری درومی او د منافقانو له سترګو څخه به پټیږی ـ د وره په منځ کښی د جنت وږمی او ښی ننداری له لری بریښی او له وره د باندی به د الله د عذاب نښی او د هغه ویرونکی اغیزی (اثر) او منظری وی.

يُنَادُونَهُمْ اَلَمْ نَكُنْ مَّعَكُمْ ۗ

غږ به وکړی (منافقان) دغو (مؤمنانو) ته آیا نه وو مونږ له تاسی سره (ملګری په دنیا کښی).

**تفسیر:** خبره داسی ده چه رسمی کافران به د (صراط) په پل باندی نه تیریږی بلکه ړومبی به په دوزخ کښی د هغه له وره څخه په تیل وهلو سره غورځولی شی. هو! هغه کسان چه د کوم پیغمبر امت او تابعدار وی اعم له دی چه ښه وی یا خراب ـ هغه به د (صراط) له پله تیریږی وروسته له دی څخه چه د الله تعالیٰ امر ورته وشی په هغه پل باندی به وخیژی په یوه سخته تیاره کښی به گرد (تول) خلق ډوبیږی په دی تـوره تیاره کښی به له ایمان لرونکیو سره یوه رڼا (رنړا) وی چه دوه مخیز (منافقان) به هم غواړی چه د هغی رڼا (رنړا) په شاؤ خوا کښی لاړ شی خو څرنگه چه مؤمنان ډیر گرندی او تیز لکه الوتکی، موټر، بائسکل ـ آس او نور ځغلی نو ځکه هغه رڼا (رنړا) له هغوی لری تښتی ـ نو دلته به دا منافقان په شورماشور او نارو سورو باندی خولی پرانیځی چغی به وهی او وائی لږ خو ودریږئ چه مونږ هم ستاسی په ړڼا کښی درسره لاړ شو مونږ په دا توره تیاره کښی لکه ړانده هسی تیریږو مونږ مه پریږدئ چه له تاسی څخه وروسته پاتی شو لږ څه ډیل وکړی او انتظار وکړئ چه مونږ هم ستاسی له دی رڼا (رنړا) څخه لږ څه گټور شو ـ آخر مونږ په دنیا کښی له تاسی سره یو ځای اوسیدو ـ او په ښکاره ډول (طریقه) مونږ هم په مسلمانانو کښی شمیرل کیدو ـ نو د دی مصیبت په وقت کښی مونږ ولی په دی توره تیاره کښی پریږدئ؟ او له مونږ څخنی هسی گرندی تښتئ؟ آیا دا د ملگریتوب وړ (لائق) او له اندیوالی سره ښائی؟ دوی به داسی جواب اوری چه بیرته وگرځئ! ـ او خپلو ځانونو ته هلته رڼا (رنړا) ولټوئ! که ئی ومومئ له هغه ځایه ئی واخلئ! د دی خبری له اوریدلو څخه دوی بیرته گرځی په دی منځ کښی به په هسی یوه توره تیاره کښی سره لوېږی چه په هیڅ یو شی باندی به د دی نظر ونه لگیږی ـ او هغه دیوال د دوی او د هغی رڼا (رنړا) په منځ کښی راځی. مطلب ئی دا چه دا رڼا (رنړا) په دنیا کښی په ښو عملونو سره په لاس راتله هغه گټه (فائده) او رڼا (رنړا) له تاسی څخه هلته پاتی شوی ده بیرته دنیا ته وگرځی چه دا هلته له تاسی څخه پاتی ده یا به هغه ځای مراد وی چه د (صراط) په پل له ختلو څخه پخوا هلته رڼا (رنړا) او نور هر چاته تقسیم کیده.

---

قَالُوا۟ بَلَىٰ وَلَٰكِنَّكُمْ فَتَنتُمْ أَنفُسَكُمْ وَتَرَبَّصْتُمْ وَٱرْتَبْتُمْ وَغَرَّتْكُمُ ٱلْأَمَانِىُّ حَتَّىٰ جَآءَ أَمْرُ ٱللَّهِ وَغَرَّكُم بِٱللَّهِ ٱلْغَرُورُ ﴿۱۴﴾

---

نو وبه وائی (مؤمنان منافقانو ته چه) هو! وئ (تاسی له مونږ سره) مگر تاسی په فتنه کښی اچولی ؤ تاسو ځانونه خپل او انتظار کاوه تاسی (په آفتونو او حوادثو مؤمنانو ته) او شک به مو کاوه تاسی (په اسلام کښی) او غولولی وئ تیر ایستلی وئ تاسی آرزوگانو خپلو تر هغه پوری چه راغی امر

حکم د الله (چه مرګ ستاسی دی) او غولولی یئ تاسی په (کرم د) الله باندی غلوونکی (چه شیطان دی).

**تفسیر:** یعنی بیشکه په ښکاره ډول (طریقه) په دنیا کښی تاسی له مونږ سره وئ او په ژبی سره مو د اسلام دعوی کوله خو باطنی حالت مو داسی ؤ چه په لذاتو او شهواتو کښی پریوتلی وئ او د نفاق لاره مو غوره کړی وه او خپل ځانونه مو غولولی او په هلاکت کښی مو اچولی ؤ او بیا مو توبه هم ونه کړه ـ بلکه تل به مو لاری ته کتل او انتظار به مو ایستو چه کله پر اسلام او مسلمانانو باندی کومه تکه لویږی او د دین په نسبت به په شکوکو او شبهاتو کښی لویدلی وئ تاسی په هم دی فریب او غلونه کښی داسی ګڼل چه وروسته له دی څخه به ستاسی څنی هیڅ پوښتنه نه کیږی ـ او تاسی به دا د خپل نفاق کښت (فصل) هیڅ نه ریبئ بلکه داسی هیلی او امیدونه مو په زړونو کښی ؤ چه په خو ورځو کښی به اسلام او مسلمانان له منځه ورک کیږی او دا ګردی (تولی) خبری او اتری به له زړونو څخه هیریږی او په پای (آخر) کښی به مونږ بری مومو پاتی شوه د آخرت خبره خو هلته به هم څه نه څه پلمی (تدبیرونه) جوړوو او خپل ځانونه به د هغو له ربړو (تکلیفونو) څنی خلاصوو ـ تاسی په داسی خیالونو کښی مست او بیخبره پراته وئ چه د الله تعالیٰ حکم او امر راورسید مرګی راغی او تاسی ئی راګیر کړئ ګواکی هغه لوی غلوونکی (شیطان) تاسی له لاری څخه وویستئ چه اوس هیڅ یوه د ژغورنی (نجات) او د خلاصی لاره در پاتی نه ده.

فَالْيَوْمَ لَا يُؤْخَذُ مِنْكُمْ فِدْيَةٌ وَّلَا مِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۭ مَاْوٰىكُمُ النَّارُ ۭ هِيَ مَوْلٰىكُمْ ۭ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ⁽¹⁵⁾

پس نن ورځ وا به نه خیستله شی له تاسی څخه (ای منافقانو) فدیه معاوضه او نه له هغو کسانو څخه چه کافران شوی ؤ ځای د ورتلو ستاسی (او د دوی د تولو) اور (د دوزخ) دی همغه (اور لائق او) ملګری ستاسی دی او بد ځای د ورتلو دی (دغه دوزخ).

**تفسیر:** یعنی بالفرض که تاسی منافقان او ښکاره کافران څه معاوضه او فدیه ورکړئ او وغواړئ چه په هغه چل سره مو ځانونه وژغوری (وساتی) نو د داسی چاری د منظوری هیڅ یو صورت نشته پس تاسی ګرد (تول) په همغه کور کښی پاتی کیدونکی یئ او هم دا د دوزخ اور ستاسی د هستوګنی ځای دی او هم دا مو ملګری دی د بل چا د رفاقت او ملګرتوب توقع او هیله (ارزو) او امید مه لرئ.

أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللَّهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ

آيا نه دی راغلی وقت هغو کسانو لره چه ایمان ئی راوړی دی (د دی) چه وویریږی زړونه د دوی (له جهته) د ذکر (وعید) د الله نه او (له جهته د) هغه خیز چه نازل شوی دی له حق څخه (چه قرآن دی).

**تفسیر:** یعنی هغه مهال (وقت) رارسیدلی دی چه د مؤمنانو په زړونو کښی د الله تعالیٰ او د قرآن یاد او مینه او محبت لا ښه ځای ونیسی او د اسلام د حقانی دین په مقابل کښی غاړه کیږدی ـ او ښه پاسته شی او له الله تعالیٰ څخه لا وویریږی.

وَلَا يَكُونُوا كَالَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْأَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَكَثِيرٌ مِنْهُمْ فَاسِقُونَ ﴿١٦﴾

او نه دی کیږی (په سختوالی د زړه کښی) په شان د هغو کسانو چه ورکړی شوی ؤ هغوی ته کتاب پخوا له دی څخه نو اوږده شوه په دوی باندی زمانه نو سخت شول زړونه د دوی او ډیر له دوی څخه فاسقان نافرمانان دی.

**تفسیر:** یعنی ایمان همغه دی چه زړونه پری نرم شی. د نصیحت او د الله تعالیٰ یاد په هغو باندی ډیره اغیزه او اثر واچوی او ژر ئی قبول کړی. پخوا به اهل الکتابو ښه پندونه د خپلو پیغمبرانو له صحبته اخیستل له څو مودی راهیسی پر هغوی باندی د غفلت خوب غلبه کړی ده او هر شی له دوی څخه هیر او زړونه ئی سخت او په اکثرو د دوی کښی ډیره سرکشی او یاغیتوب پیش شوی دی نو اوس د مسلمانانو وار راغلی دی چه هغوی د خپل مبارک پیغمبر له صحبت څخه ښی ګټی وکړی. او په نرم زړه کامل انقیاد او د ذکر الله په پوره خشوع او زیات خضوع سره د الله تعالیٰ او د ده د رسول اوامر او احکام ومنی او په ښو صفاتو سره متصف شی ـ او هغه لوی مقام ته وخیژی چه هلته تر اوسه پوری بل کوم امت نه دی ختلی.

اِعۡلَمُوۡۤا اَنَّ اللّٰهَ یُحۡیِ الۡاَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَا ؕ قَدۡ بَیَّنَّا لَکُمُ الۡاٰیٰتِ لَعَلَّکُمۡ تَعۡقِلُوۡنَ ﴿۱۷﴾

پوه شئ تاسی بیشکه چه الله ژوندی کوی زرغونوی ځمکه وروسته له موت وچوالی د هغی (په باران سره) په تحقیق ښکاره بیان کړی دی مونږ تاسی ته دلائل (د قدرت، وحدت او عظمت خپل) دپاره د دی چه تاسی عقل پکښی وچلوئ (او کار تری واخلئ په دنیوی او اخروی امورو خپلو کښی).

**تفسیر:** یعنی د عربو خلق جاهل او ګمراه او داسی ؤ لکه مړه ځمکه اوس الله جل جلاله هغوی ته ایمان وروبانه او د علم په روح سره ئی ژوندی او په دوی کښی ئی ګرد (تول) کمالات پیدا کړل لنده ئی دا چه د کوم مړی ځخه مړ انسان لره نه ښائی چه مایوس بی‌هیلی او ناامید شی ځکه چه که په رښتیا سره توبه وکاړی نو بیا الله تعالیٰ د هغه په کالبد کښی د ژوندون روح ننباسی.

اِنَّ الۡمُصَّدِّقِیۡنَ وَ الۡمُصَّدِّقٰتِ وَ اَقۡرَضُوا اللّٰهَ قَرۡضًا حَسَنًا یُّضٰعَفُ لَهُمۡ وَ لَهُمۡ اَجۡرٌ کَرِیۡمٌ ﴿۱۸﴾

بیشکه خیرات ورکوونکی سړی او خیرات ورکوونکی ښځی او هغه څوک چه قرضونه ئی کړی دی له الله سره قرض نیک دوچند به کړ شی دوی ته (ثواب د قرض د هغوی) او وی به دوی ته اجر ثواب ډیر لوی (چه جنت دی).

**تفسیر:** یعنی هغه څوک چه د الله جل جلاله په لاره کښی په خالص نیت سره د هغه د خوښی په خاطر خرڅ وکړی او خپل مال ولګوی او پرته (علاوه) له الله جل جلاله څخه د کومی بدلی یا د شکریی غوښتونکی نشی ګواکی هغه پاک الله ته پور (قرض) ورکوی نو داده اوسئ چه د هغه ورکړه به نه ضائع کیږی بلکه څو چنده به بیرته ورکرځی.

وَ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا بِاللّٰهِ وَ رُسُلِهٖۤ اُولٰٓئِکَ هُمُ الصِّدِّیۡقُوۡنَ ٭ۖ وَ الشُّهَدَآءُ عِنۡدَ رَبِّهِمۡ ؕ لَهُمۡ اَجۡرُهُمۡ وَ نُوۡرُهُمۡ ؕ وَ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا وَ کَذَّبُوۡا بِاٰیٰتِنَاۤ اُولٰٓئِکَ اَصۡحٰبُ الۡجَحِیۡمِ ﴿۱۹﴾

او هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی په الله او په (تولو) رسولانو د دغه (الله) دغه کسان هم دوی دی ډیر رښتینی او شاهدان دی (په ورځ د قیامت کښی پر دروغ ویونکیو باندی) په نزد د رب خپل وی به دغو (صدیقانو مؤمنانو) ته اجر د دوی او رڼا (رڼړا) د دوی (چه پری تیریږی به په پل صراط باندی) او هغه کسان چه کافران شوی دی او نسبت د دروغو ئی کړی دی آیاتونو ځمونږ ته هغوی دی یاران ملګری د دوزخ (چه اصلاً د هم دوی لپاره جوړ شوی دی).

---

**تفسیر:** محقق مترجم رحمة الله علیه په ښکاره سره د (الشهداء) عطف په (الصدیقون) باندی منلی دی یعنی هغه خلق چه په پاک الله او د ده په رسول پوره یقین لری او د دی یقین اثر د دوی له اعمالو او احوالو څخه هم ښکاری نو دوی رښتینی او پاخه ایمانداران دی او د الله تعالیٰ په مخ کښی هم دا حضرات د شاهدانو په ډول (طریقه) د نورو حال او احوال هم راښکاروی لکه چه د «البقرة» د سورت په اوولسمه رکوع ۱۴۳ آیت ځمونږ د دغه مقدس تفسیر کښی داسی یو آیت راغلی دی ﴿ وَكَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّسَطًا لِّتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ عَلَيْكُمْ شَهِيْدًا ﴾ په آخرت کښی به داسی رښتونکیو ایماندارانو لره د دوی د عمل او د ایمان له درجی سره سم ثواب او رڼا (رڼړا) وربښلی کیږی د دی آیت تفسیر په بل ډول (طریقه) سره هم شوی دی خو د اختصار د رعایت لامله (له وجی) مونږ هغه نشو لیکلی.

---

اِعْلَمُوْٓا اَنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ وَّزِيْنَةٌ وَّتَفَاخُرٌۢ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِى الْاَمْوَالِ وَالْاَوْلَادِ ؕ كَمَثَلِ غَيْثٍ اَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهٗ ثُمَّ يَهِيْجُ فَتَرٰىهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَكُوْنُ حُطٰمًا ؕ وَفِى الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ۙ وَّمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانٌ ؕ وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ ﴿۲۰﴾

---

پوه شئ تاسی (ای تشی دنیا خوښونکیو) چه بیشکه دغه ژوندون لږ خسیس خوشی بی فائدی لوبی او بیکاره عبث مشغولتیا او زینت ښائست او فخر لوئی کول دی په منځ ستاسی کښی یو په بل باندی او زیادت (او ډیر والی) دی په اموالو او (ډیر والی دی) په اولاد کښی (ستاسی یو په بل باندی دا ژوندون لږ خسیس په فنا کیدلو کښی) په مثل (د نباتاتو) د باران دی (چه

پر تیزې څمکې باندې اورې) ښه ښکارې ناشکرانو کرونکو لره زرغونه د دغه (باران) بیا وچه شي (دا ګیا) نو پس وبه وینې (ای کتونکیه) هغه (زرغونه) زیړ شوی (پس له شینوالي د هغه) بیا شي هغه (وچ واښه) مات تار په تار او په آخرت کښې عذاب شدید سخت دی (دپاره د هغه چا چه منګلی ئې ولګولی په تشو دنیوی امورو او آخرت ته ئې شا کړه) او مغفرت ښښنه ده لویه له (جانبه) د الله او رضوان رضاء خوښې ده (هغه چاته چه مشغول شي په اخروی امورو او دنیا ته شا کړی) او نه دی (دغه) ژوندون لږ خسیس مګر دی متاع اسباب د غرور د غولیدلو (چه نه پاتې کیږي).

**تفسیر:** هر سړی د خپل عمر په اول کښې بازی او لوبې کوی ـ بیا په جوړښت دول او فیشن او سینګار پسې ګرځی بیا د خپل پت او د اعتبار په زیادت پسې لویږی بیا ئې د مړینې ورځ نزدې کیږي د مال او اولاد په فکر کښې ډوب تللې وی چه وروسته له ما ځنې به څما د کور ـ کهول ـ آل اولاد حال او ژوندون څرنګه وی مګر دا ګرد (تول) ساز او سامان ـ فکرونه او جاجونه فاني او زائل دی لکه چه د کښتو (فصلونو) رونق او بهار د څو ورځو له مخې وی بیا زیړ شي او وچیږي او انسانان او بودګان (حیوانان) ئې ګوډ او ماتوی او ذره ذره کوی ئې ـ او د هغه د سینګار او رونق نوم او نښه نه پاتې کیږي د دنیا د ژوندون حال او احوال او د هغه ساز او سامان هم چه په رښتیا سره د تګی یوه پنګه او د غلولو او د تیرایستلو یوه وسیله ده هم داسې وګڼئ چه سړی د هغه په عارضی باغ او بهار باندې غولیږي او تیروځی او خپل انجام پرې خرابوی ځکه چه وروسته له مرګه هیڅ یو له دې شیانو ځنې نه په‌کاریږي او هلته یواځې هغه ایمان او ښې چارې او صالحه اعمال په‌کاریږي او په درد ئې خوری چه سړی په دنیا کښې کړی وی. او که کور ئې ورانیږي په آخرت کښې هغه لره د الله تعالیٰ خوښې او رضامندی لاس ته نه ورځی هغه کسان چه د ایمان له دولت څخه بې برخې وی او د کفر عصیان او د ګناهونو له پیتې سره آخرت ته حاضریږي هغه ته به سخت عذاب وررسیږي او هغو مړیو ته چه سره د لرلو د ایمان ئې پخپلو ایمانی چارو کښې څه لندوالی او کوتاهی کړی وی د هغوی له قصور سره برابره سزا ورکوله کیږي او بیا ئې پاک الله ښښی ـ د دنیا خلاصه هغه وه او د آخرت مجموعه دا ده.

سَابِقُوٓا اِلٰى مَغْفِرَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ۙ اُعِدَّتْ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ ؕ ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿۲۱﴾

تلوار وکړئ وځغلئ تاسی (ای مؤمنانو) طرف د مغفرت او ښښنی ته چه له (جانبه) د رب ستاسی دی (او وکړئ ښه عملونه) او (تلوار وکړئ وځغلئ تاسی ای مؤمنانو هغه) جنت ته چه پلنوالی ئی (داسی) دی لکه پلنوالی د آسمان او د ځمکی (چه دواړه سره یو ځای کړل شی داسی جنت چه) تیار کړی شوی دی دپاره د هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی په الله او (ایمان ئی راوړی دی) په رسولانو د دغه (الله) دغه (موعود جنت مغفرت رضاء لقاء) فضل د الله دی چه عطاء کوی ئی هغه چاته چه اراده وفرمائی (د عطا ئی چه مؤمنان دی او الله خیښتن (خاوند) د فضل عظیم دی (چه په دنیا کښی مؤمنانو ته توفیق د ایمان او په عقبا کښی جنت او رضوان ورکوی).

**تفسیر :** یعنی له موت او مړینی څخه پخوا د هغو شیانو په راغوندولو پسی ولویږئ چه د هغو په وسیله ستاسی ګناهونه وبښل شی ـ او جنت مو په برخی شی. په داسی ښو چارو کښی لتی کول او سستی ښه کار نه دی او وړاندی والی وکړی وځغلئ تاسی ای مؤمنانو هغه جنت ته چه پلنوالی ئی داسی دی لکه پلنوالی د آسمان او د ځمکی یعنی که ځمکه او آسمان دواړه سره یو ځای کړل شی نو له هغو څخه به د جنت عرض او سور جوړیږی. الله تعالیٰ ښه پوهیږی چه د هغه طول اوږدوالی به څومره وی. تیار کړی شوی دی دغه جنت دپاره د هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی په الله او ایمان ئی راوړی دی په رسولانو د الله دغه فضل د الله دی چه عطاء کوی ئی هغه چاته چه اراده ئی وفرمائی. یعنی ایمان او ښه عمل خو بیشکه د جنت د حصول وسیله ده لیکن په حقیقت سره به د جنت موندل د الله تعالیٰ په فضل او کرم پوری اړه (تعلق) لری که د هغه فضل او کرم نه وی نو له سزا څخه ځان بچ کول سخت دی او جنت ته رسیدل خو جلا (جدا) خبره ده.

مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مِّنْ قَبْلِ اَنْ نَّبْرَاَهَا ؕ

نه رسیږی هیڅ مصیبت آفت غم په ځمکه او نه ستاسی په ځانونو کښی مګر هغه خو لیکلی شوی دی په کتاب (لوح محفوظ) کښی پخوا له هغی څخه چه پیدا کړی وی مونږ هغه (په دنیا کښی).

**تفسیر:** په دنیا او نړی کښی هغه عمومی آفتونه لکه قحط او سوکړه ـ زلزله وبا او نور چه راځی ـ او هغه غمونه او آفتونه لکه رنځ ـ درد ـ ناروغی او نور چه په ځینو سړیو کښی لیدل

کیږی دا ګرد (تول) د الله تعالیٰ په علم قدیم کښی شته او فیصله ئی صادره شوی ده او په لوح محفوظ کښی لیکلی شوی دی چه سم له هغه سره دا ګردی (تولی) پیښی واقع کیږی او د یوی ذری په اندازه او میچ هم په هغه کښی څه شی نه لږ او نه ډیریږی.

إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ﴿٢٢﴾

بیشکه دا (اندازه پخوا له پیدا کولو) پر الله ډیره آسانه ده.

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ د هر شی علم په ذاتی ډول (طریقه) سره لری او په زحمت او تکلیف ئی نه زده کوی نو بیا هغه ته د علم محیط سره سم د ګردو (تولو) واقعاتو او حوادثو لیکل پخوا له وقوع څخه په هغه کتاب (لوح محفوظ) کښی آیا کوم مشکل کار دی؟ بلکه ډیر ورته سهل او آسان دی. او خبر کړئ تاسی الله اکرم شانه واعظم برهانه په دی سره.

لِّكَيْلَا تَأْسَوْا عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوا بِمَا آتَاكُمْ ۗ

لپاره د دی چه خفه نشئ تاسو پر هغه څه چه فوت شوی له لاسه وتلی دی د تاسو او خوشحاله نشئ تاسی په هغه څه چه تاسی ته ئی درکړی وی (په خوشحالتیا د کبر او هوا سره).

**تفسیر:** په دی حقیقت مو ځکه تاسی ته خبر درکړ چه تاسی ښه وپوهیږئ هغه فائدی چه تاسی لره مقدری دی هغه به ضرور در رسیدونکی وی او هغه چه مقدری نه دی هیڅ کله به لاس نه درځی هر هغه شی چه د الله تعالیٰ په قدیمی علم کښی مقرر او تاکلی شوی دی هم هغسی کیدونکی دی نو ځکه که کومه ګټه (فائده) د چا لاس ته ونه رسیږی ښائی چه پری خفه او مضطرب او پریشان نشی او هغه شی ئی چه په برخه ورسیږی په هغه باندی ځان تریخ او تریو او مضطرب نه کړی بلکه د مصیبت او ناکامی په وقت کښی صبر او تسلیم ـ او د هوسائی (آرام) او کامیابی په وخت کښی دی شکر او حمد ووائی.
**تنبیه:** په ﴿ اِعْلَمُوٓا اَنَّمَا الْحَیٰوةُ الدُّنْیَا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ ﴾ الآیة ـ کښی ئی راښوولی ؤ چه د دنیا د عیش او طرب په سامان کښی سری ته نه ښائی چه له آخرت څخه غافل شی په دی آیت کښی ئی تنبیه وفرمایله چه د دنیا په تکالیفو او مصائبو کښی ښائی چه سړی ځیر شی چه د اعتدال له میچه ورتیر نشی.

وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرِ ﴿٢٣﴾ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ وَيَأْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ ؕ

او الله نه خوښوي هر متكبر (په نعمت باندې) او فخر كوونكى (په نورو باندې). هغه كسان چه (هم دوى پخپله) بخل كوي او (هم) امر كوي خلقو ته په بخل سره (نو دوى لره سخت عذاب وركوي).

**تفسير:** د زياترو متكبرو مالدارانو حالت داسې دى چه لوئى كوي خو د لګولو په وقت كښې به يو پول او پيسه هم د دوى له جيبه څخه نه راوځي په كوم يوه ښه كار كښې به دى پخپله د وركولو توفيق نه لرى مګر پخپلو ويلو او كولو سره نورو ته دا ورښيي چه په موقع كښې خرڅ كول د هغو متوكلانو او همتناكو كار دى چه له پيسو شتو سره دومره زياته مينه او محبت نه كوي او پوهيږي چه سختي او نرمي او نور ګرد (تول) هغه على الاطلاق مالک له لوري دي.

وَمَنْ يَّتَوَلَّ فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿٢٤﴾

او هر هغه چه مخ ئې وګرځاوه (له احكام الله نه) نو بيشكه الله همغه غني بې پروا په صفتونو سره ښه ستايلي شوى دى.

**تفسير:** يعنې ستاسې له خرڅ كولو او نه كولو څخه هغه ته هيڅ يوه ګټه (فائده) نه وررسيږي هغه خو يو بې‌نياز او بې‌پروا ذات دى. ګردي (تولي) ښېګني (فائدى) او صفات على وجه الكمال د ده په ذات كښې سره تول شوي دي. ستاسې په هيڅ يو فعل كښې د هغه هيڅ يوه له ښه والي څخه هيڅ يو زيادت نه كيږي هره هغه ګټه (فائده) او نفع او نقصان چه دى له تاسې څخه دى كه څه شي لګوئ او خرڅوئ نو ګټه (فائده) به ئې اخلئ كه نه په نقصان او ګار كښې به پاتې كيږئ.

لَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنٰتِ وَاَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتٰبَ
وَالْمِيْزَانَ لِيَقُوْمَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ ۚ

خامخا په تحقيق ليږلي ؤ مونږ پيغمبران خپل سره له ښكاره‌ؤ دلائلو او نازل كړي ؤ مونږ له هغوى سره كتاب او ميزان تله (قواعد د عدل) لپاره د دې

چه ودرېږي خلق په انصاف باندې.

**تفسیر:** ښائي چه له دې كتاب او ميزان او تلې څخه د تللو تله مراد وي چه خلق په هغې سره خپل حقوق ادا كوي او راكړه وركړه كوي او د هغې په وسيلې سره عدل او انصاف كيږي يعنې كتاب الله ځكه نازل شوى دى چه خلق په عقائدو ـ اخلاقو ـ اقوالو كښې د عدل او انصاف (نياو) په سمه لاره لاړ شي او د افراط او تفريط څخه بالكل ځانونه وژغوري (وساتي). او تله ئې ځكه تاكلې (مقرر كړې) وه چه په پلورلو او پيرودلو (بيع شرى) او نورو معاملاتو كښې د انصاف د تلې پلې چابرې (پله ترازو) هيڅ لورې ته ښكته او پورته نه وي. او ممكن دى چه له تلې څخه شريعت مراد وي چه د ګردو (ټولو) قلبيه ؤ او قالبيه ؤ اعمالو حسن او قبح موږ ته په ښه ډول (طريقه) سره راښيي والله اعلم.

وَاَنْزَلْنَا الْحَدِيْدَ

او را ليږلى ده موږ اوسپنه.

**تفسیر:** يعنې الله تعالىٰ «اوسپنه» پخپل قدرت پيدا كړه او په ځمكه كښې ئې د هغه درنګونه (معادن) كيښودل.

فِيْهِ بَاْسٌ شَدِيْدٌ وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ

چه په دې كښې سخت جنګ ډير قوت دى او (په كښې ډيرې) منافع ګټې دي لپاره د خلقو.

**تفسیر:** يعنې چه له دغې اوسپنې څخه د جګړې او جنګ وسلې (اسلحې) او نور شيان جوړيږي او د خلقو زيات كارونه په هغې باندې چليږي او ګرد (ټول) مدني او عصري امر پرې مربوط دى.

وَلِيَعْلَمَ اللّٰهُ مَنْ يَّنْصُرُهٗ وَرُسُلَهٗ بِالْغَيْبِ

او بل لپاره د دې چه عالم شي الله (په علم ظاهري سره) په هغه چا باندې چه مرسته (مدد) كوي له ده سره او له رسولانو د ده سره په غيبو (بې له ليدلو).

**تفسیر:** يعنې هغه كسان چه د آسماني كتاب په لار ښوونه په سمه لاره رانشي او د انصاف او

نیاو تله په دنیا کښې سمه ونه دروی که ضرورت پیښ شی نو هغوی ته جزاء او ګوشمالی ورکوله کیږی او په ظالمانو معاندینو ـ مخالفینو او نورو کړو تلونکیو باندی به د الله تعالیٰ او د ده د رسول د احکامو وقار او اقتدار قائمیږی. په هغه وقت کښې د توری له موتی څخه نیول او په یوه خالص اسلامی جهاد کښې د داخلیدلو وار راځی چه په هغه کښې به له هم دی اوسپنی څخه کار اخیست کیږی. په دی وقت کښې به دا خبره راښکاره کیږی چه کوم یو بنده وفادار دی؟ چه بی له لیدلو د الله تعالیٰ د هغه مینه او محبت او د آخرت په راتللو ـ او د اجر او ثواب او په ګناه او عقاب باندی په غیاب سره ایمان ـ یقین او عقیده لری؟ او د هغه د دین ـ او د هغه د رسول او د کتاب متابعت او اعانت کوی؟.

إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿۲۵﴾

بیشکه الله ډیر قوی دی (په نصرت د احباؤ) ښه غالب دی (په ذلت د اعداؤ).

**تفسیر:** د جهاد تعلیم او ترغیب د دی دپاره نه دی ورکړی شوی چه الله تعالیٰ ستاسی مرستی (مدد) ـ معاونت او امداد ته څه اړتیا او احتیاج لری ځکه چه هغه لوی او بی‌نیاز او بی‌پروا پروردګار ته دا بی وځلی او کمزوری مخلوق څه مرسته (مدد) او کومک رسولی شی؟ او هغه به دوی ته څه اړتوب (احتیاج) ولری؟ هو! دومره ده چه الله تعالیٰ له داسی امر څخه ستاسی د وفاداری امتحان او ازموینه کوی. تر څو هغو بندګانو ته چه دوی په ازموینه (امتحان) کښې بریالی (کامیاب) شی لوړ (اوچت) او اعلیٰ مقامات ورکړی.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا وَإِبْرَاهِيمَ وَجَعَلْنَا فِي ذُرِّيَّتِهِمَا النُّبُوَّةَ وَالْكِتَابَ

او خامخا په تحقیق لیږلی ؤ مونږ نوح او ابراهیم او ګرځولی ؤ مونږ په اولاده د دغه (نوح او ابراهیم کښې) نبوت پیغمبری (او نازل کړی ؤ مونږ په اولادو د دوی کښې) کتاب.

**تفسیر:** یعنی د پیغمبری او کتاب دپاره مونږ د دی دواړو له اولادی څخه سری غوره کړل تر څو وروسته له دوی څخه دا لوی دولت د هغوی د ذریت او خیلخانی او ځوځات څخه بهر لاړ نشی.

فَمِنْهُمْ مُهْتَدٍ ۖ وَكَثِيرٌ مِنْهُمْ فَاسِقُونَ ﴿۲۶﴾

نو ځینی له دوی لار موندونکی دی او ډیر له دوی څخه فاسقان نافرمانان

وتونکی دی (له لاری حقی نه).

**تفسیر:** یعنی هغو خلقو لره مو چه لیږلی ؤ یا داسی ئی وبولی چه د دی دواړو له اولادی ځنی بعضی په لاره ؤ او زیاتره کسان نافرمانان ثابت شول.

ثُمَّ قَفَّيْنَا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم بِرُسُلِنَا

بیا وروسته ولیږل مونږ پر آثار قدمونو د هغوی باندی نور رسولان خپل.

**تفسیر:** یعنی وروستنیو رسولانو د هغو پخوانیو پیغمبرانو په پل باندی تګ کاوه ـ ځکه چه په اصولی حیثیت کښی د ګردو (تولو) رسولانو تعلیم او ښوونه سره یوه وه.

وَقَفَّيْنَا بِعِيسَى ٱبْنِ مَرْيَمَ وَءَاتَيْنَٰهُ ٱلْإِنجِيلَ

او وروسته راووست مونږ عیسیٰ ځوی د مریمی او ورکړ مونږ ده ته انجیل.

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ په آخر کښی د بنی اسرآئیلو د انبیاؤ خاتم یعنی حضرت عیسیٰ علیه وعلیٰ نبینا الصلوٰة والسلام ته انجیل ورکړ او استاځی وتاکه او هغوی ته ئی واستاوه.

وَجَعَلْنَا فِى قُلُوبِ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ رَأْفَةً وَرَحْمَةً

او ګرځولی ؤ مونږ په زړونو د هغو کسانو کښی چه متابعت ئی کړی ؤ د دغه (عیسی) رأفت نرمی او رحمت مهربانی.

**تفسیر:** یعنی د حضرت مسیح عیسیٰ علیه السلام ملګری چه په واقعی ډول (طریقه) د هغوی په طریقی باندی تلل د هغوی په زړونو کښی پاک الله نرمی ایښی وه ـ دوی د الله تعالیٰ له مخلوقاتو سره د محبت او شفقت په ډول (طریقه) سلوک کاوه او پخپلو منځونو کښی به هم تل په مهربانی اوسیدل او ښه ژوندون ئی سره درلود (لرلو).

وَرَهْبَانِيَّةً ٱبْتَدَعُوهَا مَا كَتَبْنَٰهَا عَلَيْهِمْ إِلَّا ٱبْتِغَآءَ رِضْوَٰنِ ٱللَّهِ فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا

او (پیدا کړی ؤ دوی له ځانه) رهبانیت (ترک د دنیا) چه نوی ئی له ځانه جوړ کړی ؤ دوی هغه (رهبانیت) نه ؤ مقرر کړی مونږ دغه (رهبانیت) په دوی باندی مګر (دوی غوره کړی ؤ رهبانیت) دپاره د خوښی د الله پس ونه کړ دوی رعایت د دی لکه چه حق د رعایت ئی ؤ.

---

**تفسیر:** یعنی په وروستنیو زمانو کښی د حضرت مسیح عیسیٰ علیه السلام تابعین د بی‌دینو باچاهانو له لاسه په تنګ شول او د دنیا له مخمصو څخه وویریدل او د رهبانیت یو بدعت ئی وویست چه د هغه حکم د الله تعالیٰ له لوری نه دی شوی مګر د رهبانانو نیت هسی ؤ چه د پاک الله خوښی حاصله کړو خو بیا ئی هغه په پوره ډول (طریقه) سره پای (آخر) ته ونشو رسولی. حضرت شاه صاحب لیکی «دا د فقیری او تارک الدنیا کیدلو رسم پرنګیانو (نصاریٰ) ایستلی دی دوی به په ځنګلو کښی یوه تکیه جوړوله ـ او هلته به کیناستل نه به ئی ښځه لرله ـ او نه به د اولاد په فکر کښی لویدل ـ شپه او ورځ به ئی عبادت کاوه له خلقو سره به ئی خبری اتری نه درلودی (لرلی) او له هغوی څخنی به لری تښتیدل ـ او حال دا دی چه الله تعالیٰ خپلو بندګانو ته داسی حکم نه دی کړی چه دنیا داسی پریږدئ او له څیلمی وزګار کینئ نو کله چه دوی پخپلو ځانونو باندی د دنیا ترک نوم کیښود بیا نو په پټه او پردی کښی د دنیا غوښتنه ډیره لویه ګناه ده» د اسلامی حق شریعت له فطری اعتدال څخه پرته (علاوه) (متجاوز) د داسی رهبانیت منع فرمایلی ده هو! په ځینو احادیثو کښی راغلی دی چه «د دی محمدی امت رهبانیت غزا کول او فی سبیل الله جهاد دی» ځکه چه غازی او مجاهد د خپلو ګردو (تولو) حظوظو ـ غوښتنو او تعلقاتو څخه بالکل ځان لری ساتی او د الله تعالیٰ په لاره کښی خپله ککره په لاس نیولی راوځی او پخپله توده وینه کښی لامبو وهی.

غازی په غزا خپل ځان جاروی　　خپلو ته پکښی فقیر او خان جاروی

مال وشته ـ کور کهول سره تول　　په دی ښه لاره کښی افغان جاروی

**تنبیه:** «بدعت» هغه کار ته وایه شی چه د هغه اصل په پاک قرآن او احادیثو او په هغو پیریو (قرنو) کښی چه مشهود لها بالخیر دی نه وی او هغه د دین او د ثواب کار وګڼه شی.

---

فَاٰتَیْنَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مِنْهُمْ اَجْرَهُمْ ۚ وَكَثِیْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿۲۷﴾

پس ورکړ مونږ هغو کسانو ته چه ایمان ئې راوړی ؤ (په محمد) له هغو څخه اجر ثواب د دوی او ډیر له دوی څخه فاسقان نافرمانان دی.

**تفسیر:** یعني په دوی کښې اکثر نافرمانان دی نو ځکه سره له دې چه پر حضرت خاتم الانبیاء صلی الله تعالیٰ علیه وعلیٰ آله وصحبه وسلم پخپلو زړونو کښې یقین او باور لری خو بیا هم پر دوی ایمان نه راوړی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَءَامِنُواْ بِرَسُولِهِۦ يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِن رَّحْمَتِهِۦ وَيَجْعَل لَّكُمْ نُورًا تَمْشُونَ بِهِۦ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٨﴾

ای هغو کسانو چه ایمان ئې راوړی دی (یعني ای مؤمنانو پر پخوانیو انبیاؤ) وویریږئ تاسی (له عذابه) د الله او ایمان راوړئ په رسول د دغه (الله چه محمد دی) چه درکړی تاسی ته دری حصې برخې له رحمته خپله او چه وګرځوی تاسی لره یوه رڼا (رنړا) چه تلل به کوئ په هغې سره (پر صراط) او وبښی تاسی ته (ګناهونه ستاسی) او الله ښه مغفرت کوونکی (د خطیاتو) ډیر رحم والا دی (په انعام د اجر او ثواب سره).

**تفسیر:** یعني ای کتابیانو د دغه محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم تابع اوسئ! تر څو دا نعمتونه ومومئ او ستاسی تیری خطاوی وبښلی شی ـ او د ښه عمل او هر کار دوچنده ثواب در ورسیږی او سره له خپلې رڼا (رنړا) هر چیری وګرځئ یعني ستاسی ښه (وجود) د ایمان او د تقویٰ په وسیله روڼ او نورانی شی او په آخرت کښې هم دا رڼا (رنړا) ستاسی په مخ او ښی څنګ کښې له تاسی سره هر چیری لاړه شی.

**تنبیه:** د دی خوار په خیال کښې به دا خطاب هغه اهل الکتابو ته وی چی زمونږ پاک پیغمبر باندی ایمان راوړی وی نو په دی تقدیر سره له ( وآمنوا برسوله) څخه به په ایمان باندی ثابت او مستقیم پاتی کیدل مراد وی. نورو اهل کتابو ته د دوه چنده ثواب مونډلو څه بیان د (القصص) په سورت کښې تیر شوی دی هلته دی وکتل شی.

لِّئَلَّا يَعْلَمَ أَهْلُ ٱلْكِتَٰبِ أَلَّا يَقْدِرُونَ عَلَىٰ شَىْءٍ مِّن فَضْلِ ٱللَّهِ ۙ وَأَنَّ ٱلْفَضْلَ بِيَدِ ٱللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٢٩﴾

لپاره د دی چه وپوهیږی اهل د کتاب (په دی) چه قادران نه دی دغه (منکران) په هیڅ شی له فضل د الله نه او (بل عالمان شی دغه منکران په دی) چه بیشکه فضل لوئی په ید (بلا کیف) د الله کښی ده ورکوی ئی هر هغه چاته چه اراده وفرمائی (د ورکولو ئی) او الله خاوند د فضل ډیر لوی دی.

**تفسیر:** یعنی اهل الکتابو د پخوانیو پیغمبرانو خبری او قصی اوریدلی او خپل افسوسونه او ارمانونه ئی داسی ښکارول چه کاشکی مونږ هم د هغو په پیریو کښی اوسیدی تر څو مو هغه درجی او مرتبی موندلی وی. اوس مونږ ته د هغو برکاتو او فیوضاتو موندل گران دی نو دلته داسی وایه شی چه هغه پیغمبران هم د الله تعالیٰ له لوری لیږلی شوی ؤ او هغه دوچنده ثواب ورکول هم د پاک الله له درباره مرحمت کیږی او حال دا دی چه اوس همغه الله تعالیٰ شته او د هغه د فضل او کمال بحار او سیندونه تر څندو ډک خاږخوړی بهیږی.

**تنبیه:** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه د دی آیت تفسیر داسی فرمایلی دی خو له زیاترو د اسلافو څخه داسی منقول دی دلته ﴿لِّئَلَّا يَعْلَمَ﴾ د **(لکی یعلم)** په معنی ده یعنی تر څو وپوهیږی اهل کتاب هغه چه تر اوسه ئی ایمان نه دی راوړی چه د هغوی له وسه پوره نه ده چه د الله تعالیٰ فضل ځان ته په زور وگټی بلکه دا فضل او لورینه (مهربانی) د الله تعالیٰ په واک (اختیار) کښی ده په هر چا چه اراده وفرمائی ورکوی ئی لکه له اهل الکتابو څخه هغه چه په خاتم الانبیاء باندی ئی ایمان راوړی دی په هغوی باندی ئی خپل دا فضل کړی دی او هغوی ته دوچنده ثواب ورکوی او د هغوی تیری خطاوی ښښی او رنا (رڼا) هغوی ته مرحمت کیږی او هغه کسانو چه ایمان ئی نه دی راوړی هغوی له داسی انعاماتو څخه بی برخی او محروم دی.

**«تمت سورة الحدید بفضل الله المجید فلله الحمد والمنة»**

سورة المجادلة مدنية و هی اثنتان و عشرون آیة و ثلث رکوعات
رقمها (۵۸) تسلسلهاحسب النزول (۱۰۵) نزلت بعد سورة المنافقون
د «المجادلة» سورة مدنی دی (۲۲) آیته (۳) رکوع لری په تلاوت کښی (۵۸) او په نزول کښی (۱۰۵) سورت دی وروسته د «المنافقون» له سورة څخه نازل شوی دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع) په نامه د الله چه خورا (ډیر) مهربان ډیر رحم والا دی

قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّتِیْ تُجَادِلُكَ فِیْ زَوْجِهَا وَتَشْتَكِیْٓ اِلَی اللّٰهِ

په تحقیق اوریدله الله خبره د هغې (ښځې) چه سؤال او جواب ئې کاوه له تا سره په شان د خاوند خپل کښی او شکایت ئې کاؤ طرف د الله ته.

**تفسیر:** پخوا له اسلام څخه که کوم سړی خپلې ښځې ته ویل چه ته مې مور ئې نو دا خبره داسی گڼله کیده چه هغه د ژوندون تر آخرت پورې په هغه باندی حرامه شوه . او بیا به هیڅ یو داسی صورت هغه ته نه ؤ چه هغه ښځه ئې بیا ښځه شي. ځمونږ د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په زمانه کښی یو مسلمان چه نوم ئې اوس بن الصامت رضی الله تعالیٰ عنه ؤ خپلې ښځې ته چه خوله بنت ثعلبه رضی الله تعالیٰ عنها نومیده هم داسی وویل. هغه ښځه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخ کښی ودریده او دا قصه ئې ورته وکړه. حضرت صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه د دی معاملې په نسبت لا د الله تعالیٰ له لوری ماته کوم خاص حکم نه دی رارسیدلی. خو زه خیال کوم چه ته په هغه باندی حرامه شوی ئې ـ او وروسته له دی څخه تاسی سره گډ نه شی اوسیدلی. هغې ښځې په نارو او چغو باندی پیل (شروع) وکړ ـ او داسی به ئې ویل چه «ځما ودان کور وران او واړه ماشومان می خوار او پریشان شول.» کله به ئې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره داسی جګړی کولی چه «یا رسول الله د هغه مقصد د دی الفاظو له ویلو ځنی د طلاق اراده نه وه» کله به یې د الله تعالیٰ په دربار کښی ژړا او انګولا کوله او داسی به ئې ویل «آ اله العالمینه! زه د خپل بوا ځیتوب او د دی مصیبت شکایت ستا دربار ته کومه! ته می په عرض او فریاد ورسه! که نه دا ځما ماشومان که له ما سره پاتی شی له لوږی څخه مری او که ئې هغه ته ورکړم نو ځما د نه پاللو او نه ساتلو څخه له کاره وځی او ضایع کیږی ای الله تعالیٰ ته پخپله د آخرالزمان نبی په خوله ځما د ژغورنی (بچ کوونی) یوه لاره راوښیه! او ځما دا مشکل او غوته را وپرانیځه!» نو په دی وقت کښی دا آیات نازل او د «ظهار» احکام ورانعام شول.

**تنبیه:** ځمونږ د حنفیانو په نزد «ظهار» دا دی چه د خپلی ښځی کومه (عضو) د ابدیه محرماتو

مور ـ خور ـ او نورو کومی عضو سره تشبیه وړکړی چه د هغه کل ده ته حرام او ناروا وی لکه چه داسی ووائی چه «**انتِ عليَّ كظهرامي** ـ ته دی پر ما باندی داسی ئی لکه څما د مور شا». د «ظهار» د احکامو تفصیلات دی په فقهیه ؤ کتابونو کښی وکتل شی.

---

وَاللّٰهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا ۚ إِنَّ اللّٰهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ ①

---

او الله اوریده سؤال او جواب ستاسی بیشکه چه الله ښه اوریدونکی دی (د تولو اقوالو) ښه کتونکی دی (د کړدو (تولو) احوالو).

---

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ هر څیز وینی او اوری ئی. هغه خبری اتری چه ستاسی او د هغی ښځی په منځ کښی وشوی نو هغه به ئی ولی نه وی اوریدلی. محققه ده چه پاک الله د هغی مصیبتناکی ښځی په شکایت چه فریاد ئی کاوه ورسیده او د همیشه دپاره ئی د داسی حوادثو د ژغورنی (بچ کیدلنی) لیاره په لاندی دول (طریقه) سره څرګنده (ښکاره) کره!

---

الَّذِينَ يُظٰهِرُونَ مِنكُم مِّن نِّسَآئِهِم مَّا هُنَّ أُمَّهٰتِهِمْ ۖ إِنْ أُمَّهٰتُهُمْ إِلَّا الّٰٓـِٔي وَلَدْنَهُمْ ۚ وَإِنَّهُمْ لَيَقُولُونَ مُنكَرًا مِّنَ الْقَوْلِ وَزُورًا ۚ

---

هغه کسان چه ظهار کوی (مور وائی) له تاسی څخه ښځو خپلو ته نه کیږی دغه ښځی (په بللو د دوی سره) میندی د دوی نه دی میندی د دوی مګر هغه ښځی دی چه څیږولی ئی وی دوی او بیشکه دوی خامخا وائی یوه خرابه (نا اشنا خبره) له خبری او دروغ وائی،

---

**تفسیر:** یعنی ماندینه (منکوحه) کله چه دی ئی نه دی څیږولی نو څرنګه د ده مور کیدی شی؟ او څنګه به په محض یوه تشبیه سره د تل دپاره په ده باندی لکه حقیقی مور غوندی حرامیږی؟ هو! که کوم سړی د خپلی بی تمیزی لامله (له وجی) داسی یوه دروغ او چتی (بیکاره) او نامعقوله خبره وکړی نو د هغی بدله دا ده چه کفاره د ورکړی بیا که هغی ته ورنږدی شی یا ورنږدی نشی هغه ښځه د ده ښځه ده او له ظهاره طلاق نه اوری.

---

وَإِنَّ اللّٰهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ ②

او بیشکه الله خامخا ښه عفو کوونکی ښه مغفرت کوونکی دی.

**تفسیر:** یعنی هغه حرکتونه چه د جاهلیت په زمانه کښی شوی دی هغه ګرد (تول) معاف دی اوس وروسته له هدایته هسی مه کوی.! که په غلطه له تاسی څخه داسی ګناه کیږی نو ژر تر ژره توبه وباسی، او پخوا له دی څخه چه خپلی ماندینی (ښځی) ته ورنژدی شئ د «ظهار» کفارت اداء کړئ!

وَالَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا ؕ

او هغه کسان چه (مور وائی) ظهار کوی له ښځو خپلو نه بیا راګرځی دوی (ماتولو د) هغی خبری ته (چه ویلی ئی وی) نو لازم دی دوی ته ازادول د مریی پخوا د هغه چه یو بل سره مسه کړی (په وطی سره)،

**تفسیر:** یعنی د دغه لفظ «**انتِ عليّ كظهرامي**» له ویلو څخه د میړه (خاوند) او ماندینی (ښځی) مسه کول او یو پر بل باندی لاس اچول او صحبت کول حرامیږی کله چه یو مریی ازاد کړی یا د دوو میاشتو د روژی نیولو څخنی فارغ شی نو بیا یو بل ته سره نژدی کیدی شی.
**تنبیه:** څمونږ د حنفیانو په مذهب پخوا له کفاری ورکولو څخه جماع او د هغه دواعی دواړه ممنوع دی په ځینو احادیثو کښی راغلی دی «**امره ان لايقربها حتى يُكفِّر**».

ذٰلِكُمْ تُوْعَظُوْنَ بِهٖ ؕ

دغه (حکم په کفارت سره) پند درکاوه شی تاسی ته په دغه (حکم) سره،

**تفسیر:** د کفاری مشروعیت ستاسی د تنبیه او پند دپاره دی چه بیا داسی غلطی ونه کړئ! او نور هم له هسی غلطیو څخنی ځانونو وساتئ!

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۳﴾

او الله په هغه څه چه کوئ تاسی ښه پوهیدونکی دی (نو جزاء به پری

درکړی).

**تفسير:** يعنی سم د تاسی له احوال سره احکام درلیږی او په دی باندی پوهیږی چه تر کومی اندازی پوری تاسی په هغو باندی عمل کوئ.

فَمَنۡ لَّمۡ يَجِدۡ فَصِيَامُ شَهۡرَيۡنِ مُتَتَابِعَيۡنِ مِنۡ قَبۡلِ اَنۡ يَّتَمَآسَّا ۚ فَمَنۡ لَّمۡ يَسۡتَطِعۡ فَاِطۡعَامُ سِتِّيۡنَ مِسۡكِيۡنًا ؕ

پس هغه چا چه ونه موند (مریی) نو (پری لازم) روژه نیول دی د دوو میاشتو پرله پسی (چه پکښی بی له عذره فصل واقع نشی) پخوا له هغه چه یو بل سره مسه کړی (په وطی سره)، پس هغه توان نه لری (د روژی نیولو) نو (پری لازم) طعام (خواړه) ورکول دی شپیتو مسکینانو ته،

**تفسير:** يعنی که د غلام ازادولو توان نه لری نو پرله پسی دوه میاشتی داسی روژی دی ونیسی چه پکښی بی له عذره هیڅ یو ډیل او پریکړه واقع نشی که په روژه نیولو باندی ئی هم توان نه رسیږی نو شپیتو تنو اکربانو او فقیرانو ته دی طعام او خواړه ورکړی د دی مسئلی نور تفصیلات دی په فقهیه ؤ کتابونو کښی وکتل شی.

ذٰلِكَ لِتُؤۡمِنُوۡا بِاللّٰهِ وَرَسُوۡلِهٖ ؕ

دغه (تخفیف په کفاره کښی) دپاره د دی دی چه ایمان راوړئ تاسی په الله او په رسول د دغه (الله).

**تفسير:** يعنی د جاهلیت د زمانی خبری پریږدی ! او د الله تعالیٰ په حکمونو باندی تګ وکړی او هسی چاری وکړی، چه مؤمن لره ښائی او د مومن له شان ښخه وی.

وَتِلۡكَ حُدُوۡدُ اللّٰهِ ؕ وَلِلۡكٰفِرِيۡنَ عَذَابٌ اَلِيۡمٌ ﴿۴﴾ اِنَّ الَّذِيۡنَ يُحَآدُّوۡنَ اللّٰهَ وَرَسُوۡلَهٗ كُبِتُوۡا كَمَا كُبِتَ الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ وَقَدۡ اَنۡزَلۡنَآ

ايٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ ۚ وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ۝٥

دا (مذکوره احکام) حدونه (مقرر شوی) د الله دی (معین کړی شوی) او کافرانو ته عذاب ډیر دردناک دی بیشکه هغه کسان چه مخالفت کوی له الله نه او له رسول د دغه (الله) څخه خوار هلاک به کړل شی دوی لکه چه خوار هلاک کړی شوی ؤ هغه (کسان) چه پخوا له دوی څخه ؤ او په تحقیق نازل کړی دی مونږ دلائل (د قدرت خپل او صدق د رسول) روښان او کافرانو منکرانو ته عذاب سپکونکی رسوا کوونکی دی (په دنیا یا په عقبا کښې).

**تفسیر:** یعنی مسلمانانو ته نه ښائی چه د الله تعالیٰ له ټاکلیو (مقررو) حدودو څخه تجاوز وکړی. پاتی شول کافران چه د الله د حدودو څه پروا نه کوی او پخپل فکر او غوښتنه سره حدود ټاکی (مقرروی) نو تاسی هغوی پریږدئ چه هغوی لره درد رسوونکی عذاب دی داسی خلق به پخوانیو زمانو کښې هم ذلیل او خوار ؤ او اوس هم خواریږی د الله تعالیٰ د قدرت د دلائلو له لیدلو او د رڼو او ښکاره ؤ نښو له اوریدلو څخه وروسته بیا پخپلو انکارو باندی کلک پاتی کیدل او د الله تعالیٰ د احکامو عزت او احترام نه کول د خپل ځان د ذلت او سپکتیا او بی احترامی او خواری په عذاب کښې ځان اخته کولو سره مرادف دی.

يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ جَمِيْعًا فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا

(یاد کړه ای محمده) هغه ورځ چه ژوندی به پورته کړی الله دوی ټول له قبورو پس خبر به کړی (الله) دوی په هغو کارونو باندی چه کړی ئی وی.

**تفسیر:** یعنی هر هغه کارونه چه دوی کړی وی د هغو له نتیجی سره به مخامخ کیږی. د دوی به هیڅ عمل غائب کیدونکی نه وی.

اَحْصٰىهُ اللّٰهُ وَنَسُوْهُ ۚ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ۝٦

شمیرلی ساتلی دی هغه (اعمال) الله او هیر کړی دی هغوی (هغه اعمال) او الله پر هر شی باندی ښه شاهد ښه خبردار دی ( نو ور به کړی دوی ته جزاء موافقه).

**تفسیر:** یعنی هغوی ته د هغوی د ګرد (ټول) عمر کارونه او اعمال هیڅ په یاد هم نه دی پاتی

شوی یا هغوی ته یی هیڅ توجه نه ده شوی لیکن د الله تعالیٰ په نزد هغه ګرد (تول) یو په یو محفوظ او ساتلی شوی دی ـ دی به هغه ګرد (تول) دفترونه په هغه ورځ کښی پرانیځی. او د هر سړی په مخ کښی به ئی بردی.

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ یَعْلَمُ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ ؕ مَا یَكُوْنُ مِنْ نَّجْوٰی ثَلٰثَةٍ اِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا خَمْسَةٍ اِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ وَلَاۤ اَدْنٰی مِنْ ذٰلِكَ وَلَاۤ اَكْثَرَ اِلَّا هُوَ مَعَهُمْ اَیْنَ مَا كَانُوْا ۚ

آیا نه وینی ته نه ئی خبر چه بیشکه الله ته ښه معلوم دی هر هغه څه چه په آسمانونو کښی دی او هر هغه څه چه په ځمکه کښی دی (بلکه خبر ئی) نه به وی پټی خبری (یو د بله په غوږونو کښی) د دری تنو مګر خو دغه (الله) به څلورم د هغوی وی (علماً) او نه به وی پنځه تنه (راز ویونکی) مګر خو دغه (الله) به شپږم د هغوی وی (په اعتبار د علم سره) او نه به وی لږ له دی (عدد) نه او نه به وی ډیر (له دی عدد نه) مګر خو وی به دغه (الله) له هغو سره (په اعتبار د علم سره) هر چیری چه وی هغوی.

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ علم یواځی د دوی په اعمالو باندی منحصر نه دی بلکه د هغه په علم کښی د آسمان او ځمکی هر وړوکی او لوی شی شته هیڅ یو مجلس ـ مشوره ـ جرګه ـ مرکه ـ پته خبره ګنګوسه او پس پسی به نه وی چه الله تعالیٰ به په هغوی باندی نه خبریږی. د ده محیط علم په هر شی او هر ځای باندی رسیږی. هر چیری چه دری سړی سره کینی او خبری اتری سره وکړی دوی دی داسی نه ګڼی چه دلته بل څلورم څوک نشته ـ او پنځه ګونی مرکه دی خیال ونه کړی چه له موږ سره کوم شپږم اوریدونکی نشته تاسو ښه وپوهیږی، چه دری وی که څلور یا پنځه یا له دی څخه لږ یا ډیر ـ هر چیری چه وی ـ او په هر حالت کښی چه وی الله تعالیٰ په خپل محیط علم له هغوی سره شته او هیڅ کله له هغوی څخه جلا (جدا) نه دی.

**تنبیه:** که په مشوره کښی سره دوه تنه وی نو د جګړی او اختلاف په صورت کښی ترجیح مشکله ده ځکه په عمومی معاملو کښی ضرور یو طاق عدد په جرګو او مرکو کښی وی او له یوه څخه وروسته ړومبنی طاق شمیر دری بیا پنځه وی. ښائی چه دا دوه شمیر د دوی لامله (له وجی) غوره کړی شوی وی نو وراندی ئی له ﴿ وَلَاۤ اَدْنٰی مِنْ ذٰلِكَ وَلَاۤ اَكْثَرَ ﴾ سره د هغه تعمیم وفرمایه پاتی شوه دا خبره چه د فاروقی د خلافت مرکه ولی د شپږو تنو مشرانو لرونکی وه حال دا دی چه د شپږو شمیر طاق نه دی ښائی چه د هغه سبب دا وی چه په هغه وقت کښی هم دا

شپږ سره مشران هر يو د خلافت او ټولواکی (باچاهی) وړ (لائق) ؤ چه هيڅ يو له دوی شخه د خوشی کولو وړ (لائق) نه ؤ او هم د راتلونکيو خليفګانو انتخاب د هم دوی له منځه کيده او ښکاره ده د هر مشر نوم چه په رياست سره واخيست شی نو پرته (علاوه) له هغه شخه پنځه رأی ورکوونکی پاتی کيږی . بيا حضرت عمر بن خطاب رضی الله تعالیٰ عنه د احتياط له مخی د مساوات په صورت کښی ترجيح دپاره د عبدالله بن عمر رای ته کتل والله اعلم.

---

ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ۝ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ نُهُوا عَنِ النَّجْوَىٰ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا نُهُوا عَنْهُ وَيَتَنَاجَوْنَ بِالْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ الرَّسُولِ

---

بيا به خبر کړی (الله) دوی په هغو (دنيوی اعمالو) چه کړی ئی دی په ورځی د قيامت کښی بيشکه الله په هر څيز باندی ښه پوهيدونکی ښه خبردار دی ـ آيا نه وينی ته نه ئی خبر هغه کسان چه منع کړی شوی ؤ له پټو خبرو شخه بيا بيرته ور وګرځيدل دوی هغه شی ته چه منع کړی شوی ؤ دوی له هغه شخه او پټی خبری کوی دوی په ګناه سره او په تجاوز دشمنی ظلم سره او په معصيت نافرمانی د رسول (د الله) سره.

---

**تفسير:** ځمونږ د پيغمبر حضرت محمد صلی الله عليه وسلم په مرکه کښی دوه مخو او منافقانو به پخپلو منځونو کښی پټی خبری سره کولی د مرکی په سړيو باندی به ئی مسخری کولی او عيبونه به ئی څرګندول (ښکارول) ـ يو د بل په غوږو کښی به ئی پس پسی کولی او د سترګو او د سر په اشارو سره به ئی له خپلو ملګرو سره خبری کولی چه له دی حرکاتو شخه صادقو او مخلصو مسلمانانو ته تکليف پيښيده او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د خبری له اوريدلو شخه وروسته به ئی ويل چه «دا مشکل کار ځمونږ له لاسه کيدونکی نه دی» اګر که پخوا له دی شخه د (النساء) په سورت کښی له هسی سرګوشی او پټی خبری شخه هم هغوی ته ممانعت شوی ؤ خو دغو مؤذی او بی حياء منافقانو سره له هغه د خپلو دی بدو عملونو شخه لاس وانخيست دا دی اوس بيا د هغه په نسبت داسی ممانعت وشو.

---

وَإِذَا جَاءُوكَ حَيَّوْكَ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ اللَّهُ وَيَقُولُونَ فِي أَنفُسِهِمْ

لَوْلَا يُعَذِّبُنَا اللّٰهُ بِمَا نَقُوْلُ ؕ حَسْبُهُمْ جَهَنَّمُ ۚ يَصْلَوْنَهَا ۚ فَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝۸

او کله چه راشي دوی تاته (ای محمده!) نو پیشکشي درکوی سلام اچوی تاته په هغه شي سره چه پیشکشي نه ده مقرره کړی تاته په هغه شي سره الله (په ځای د السلام علیک السام علیک وائي) او وائي دوی په نفسو زړونو خپلو کښې ولي نه په عذابوی مونږ الله په هغه (غلط) څه چه وایو ئي (نو فرمائي الله) بس دی دوی ته (په تعذیب کښې) دوزخ چه ورننوځي پکښې نو بد ځای د ورتللو دی (دا دوزخ).

**تفسیر:** یعني پاک الله له نورو پیغمبرانو سره تاسي ته داسي دعاوی وفرمایلي (سلام علی المرسلین) او (سلام علی عباده الذین اصطفیٰ) او د مؤمنانو په ژبه ئي داسي ویل «السلام علیک ایهاالنبي و رحمة الله و برکاته» مګر ځیني یهودان به کله چه د هغوی حضور ته راتلل نو د السلام علیک په عوض به ئي په ژولي ژبي سره ویل السام علیک چه د هغه معنی داسي ده چه تا باندی دی مرګی راشي! ګواکي د هغه د سلامتیا د دعاء په عوض کښې چه الله تعالیٰ هغوی ته ورکړی ؤ دوی ښیراوی کولي ببا به ئي پخپلو منځونو کښې سره ویل که دی په رښتیا سره پیغمبر دی نو د داسي وینا له ویلو سره سم د لاسه ولي پر مونږ باندی عذاب نه رانازلیږی؟ نو د دوی د دی سؤال په جواب کښې فرمائي ﴿ حَسْبُهُمْ جَهَنَّمُ ﴾ یعني تلوار مه کوئی داسي کافي پوره عذاب به دروړسیږی چه د هغه په مقابل به د بل عذاب ضرورت نه پاتي کیږی.

**تنبیه:** په احادیثو کښې راغلي دی چه یهودانو به د السلام علیک په ځای باندی السام وویل ممکن دی چه ځینو منافقانو به هم داسي ویل ـ ځکه چه زیاتره منافقان یهودیان ؤ. د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم داسي عادت ؤ کله به چه کوم یهودی داسي ورته ویل دوی به په لنډ دول (طریقه) سره داسي جواب وایه (وعلیک) یو ځلي چه عائشي صدیقي رضی الله عنها د کوم یهودی له خولي څخه السام علیک واورید نو په جواب کښې ئي داسي ورته وویل علیک السام واللعنة نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل اخلاق له کماله له دی خبری څخه خوښ نه شو.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا تَنَاجَيْتُمْ فَلَا تَتَنَاجَوْا بِالْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ الرَّسُوْلِ وَتَنَاجَوْا بِالْبِرِّ وَالتَّقْوٰى ؕ

ای هغو کسانو چه ایمان ئي راوړی دی (یعني ای مؤمنانو) کله چه پټي

خبری کوئی تاسی یو له بله سره (په غوړونو کښی) پس مه کوئی پټی خبری پخپلو منځونو کښی په گناه سره او په تجاوز دښمنی ظلم سره او په معصیت نافرمانی د رسول (الله) سره او پټی خبری مصلحت کوئ پخپلو منځونو کښی په احسان نیکی او پرهیزگاری سره.

**تفسیر:** یعنی صادقو مسلمانانو لره ښائ چه د منافقینو له داسی عاداتو (اخلاقو) څخه ځانونه وژغوری (وساتی) او د مسلمانانو پس پسی او کنگوسی او مشوره نه ښائ چه د ظلم او عدوان او د الله تعالیٰ او رسول الله صلی الله علیه وسلم د نافرمانی دپاره وی بلکه د نیکی ـ د تقویٰ او د معقولی او ښی خبری د اشاعت دپاره وی لکه چه (النساء) د سورت په (۱۷) رکوع ۱۱۴ آیت ځمونږ د دغه مقدس تفسیر کښی مو داسی یو آیت ولوست

﴿ لَا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِّن نَّجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ ﴾

وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ⑨

او ویریږئ له (عذابه د) الله هغه (الله) چه خاص ده ته به تاسی جمع کړی شئ په قیامت کښی جزاء ته.

**تفسیر:** یعنی تاسی ټول د الله تعالیٰ په مخ کښی ودریږی. او تر ذری پوری حساب ورکوئ له الله تعالیٰ څخه د هیڅا پټه او ښکاره خبره پټه نه ده نو ځکه د هغه د ویری او د پرهیزگاری خبری وکړی.

إِنَّمَا النَّجْوَىٰ مِنَ الشَّيْطَانِ لِيَحْزُنَ الَّذِينَ آمَنُوا وَلَيْسَ بِضَارِّهِمْ شَيْئًا إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ ۚ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ⑩

بیشکه چه پټی خبری (په گناه) (کارونو) د شیطان دی لپاره د دی چه خفه کړی هغه کسان چه ایمان ئ راوړی دی او نه دی (شیطان یا پټه خبره) ضرر رسوونکی دغو (مومنانو) ته د هیڅ شی مګر په اذن حکم اراده د الله او ښائ چه خاص پر الله پس توکل دی وکړی مومنان (او الله ته وسپاری ټول امور خپل او هیڅ پروا دی نه کوی د پټ راز ویلو د نورو څخه)

**تفسير:** يعني د منافقانو دا سرگوشي او پس پسي د دې لامله (له وجې) وي چه لږ څه مسلمانان خپه او په سودا کښې ولوېږي ووېرېږي او پخپلو زړونو کښې ووائي چه آيا دا خلق څه غوټه کوي؟ او څه سره وائي؟ او په څه ترون کښې سره بوخت (مشغول) دي؟ دا کار شيطان په هغوی باندې کاوه مسلمانان دې په ياد ولري چه د شيطان له لاسه هيڅ شي کېدونکې نه دی او هيڅ يو څيز د هغه په واک (قبضه) کښې نشته ګټه (فائده) او نقصان د الله تعالیٰ په اختيار کښې دی که د هغه حکم او اراده نه وي که هرڅومره مشورې او منصوبې او ترون وکړي تاته هيڅ نقصان نه شي رسولی نو ځکه په ځای د دې چه تاسې خفه او پريشان شی. ښائي چه الله تعالیٰ ته هيله (طمعه) او اميد او اسره وکړئ.

**تنبيه:** په احاديثو کښې له دې خبرې څخه ممانعت شوی دی چه په مجلس کښې يو سړی پريږدی دوه نور پخپلو منځونو کښې سره پس پسې او پټې خبرې وکړي ځکه چه هغه دريم سړی به خفه کيږي ـ دا مسئله ښائي چه تر دې آيت لاندې راشي. حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليکي «که دوه سره په مجلس کښې پټ غږيږي نو نورو ليدونکيو ته سودا پيښيږي او هر يو پخپل زړه کښې وائي چه له ما ځنې کومه خرابه خبره شوې ده چه دوی ئې په پټه سره وائي او د هغې په ښاؤ خوا کښې پټې خبرې سره کوي.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قِيلَ لَكُمۡ تَفَسَّحُواْ فِي ٱلۡمَجَٰلِسِ فَٱفۡسَحُواْ يَفۡسَحِ ٱللَّهُ لَكُمۡۖ

---

آی هغو کسانو چه ايمان ئې راوړی دی (يعنې ای مؤمنانو) کله چه وويل شي تاسې ته ځای ارت کړئ په مجلس کښې نو ځای ارت کړئ چه ارتيا وکړي الله تاسې لره (په جنت کښې).

---

**تفسير:** يعنې ای مؤمنانو په مجالسو کښې داسې سره کينئ چه د کښيناستلو ځای نورو ته پاتې شي او تول موقع ومومي او د نورو ځای تنګ نه شي کله چه تاسو ځايونه ارت کړئ خلقو ته نو پاک الله تعالیٰ به هم تاسې له تنګې څخه وباسي او د خپل رحمت ابواب او ورونه به در پرانيځي.

---

وَإِذَا قِيلَ ٱنشُزُواْ فَٱنشُزُواْ

---

او کله چه وويل شي (تاسې ته) چه پورته شئ! (کوم ښه کار ته لکه لمونځ او نور) نو پورته شئ!

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «دا د مجلس ادب دی که کوم سړی راشي او د هغه د کیناستلو ځای نه وي نو نورو ته ښائي چه لږ لږ سره وخوځیږي تر څو د مجلس حلقه لویه او ځای ارت شي یا له خپلو ځایونو څخه ودریږي او لږ څه ارته بله حلقه او پینده سره جوړه کړي که بالکل د تللو په نسبت دوی ته وویل شي نو لاړ دي شي په داسي حرکت کښي غرور او بخل کول ونه کړئ ځکه چه په ښو رشو (خویونو) په سړی باندی الله تعالیٰ مهربان او له بدو رشو (خویونو) څخه الله تعالیٰ بیزار دی.

**تنبیه:** د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په مجلس کښي هر سړی خپل نژدیوالی له پیغمبر سره غوښتو چه د هغه لامله (له وجی) دیر ځلی په مجلس کښي تنگی پیښیده تر دی چه کله کله به لویو اصحابو ته هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره نژدی ځای نه پیدا کیده. نو ځکه دا احکام صادر شول تر څو هر یوه ته د هغه له درجی او غوښتني سره سم درجه په درجه پرله پسی د استفادی موقع په لاس ورشي او د مجلس ضبط او ربط او نظم او نسق قائم شي. اوس هم د داسي بی انتظامی پیښوونکیو شیانو په لری کیدلو کښي د مرکو او د جرگو د ریئس او ستر احکام او هدایت منل یو ضروری کار دی. او ښائ چه نور یی د زړه له کومی څخه ومنی . اسلام مونږ ته ابتری بی نظمی - پریشانی نه راښیی بلکه د اسلام په مفهوم کښي انتهائی نظم - نسق - انضباط او ارتباط پروت دی او په هر خیز او هر کار کښي مونږ ته داسي گټور (فائده مند) شیان راښیی چه په هغو کښي په زرهاؤ صوری او ممنوی ښیگڼی (فائدی) شته. کله چه په عامو او معمولی جرگو او مرکو کښي داسي حکم دی نو د جگړی په ډگر(میدان) او د جهاد په میدان کښي له دی څخه لوړ (اوچت) او غوړ حکمونه راکړی شوی دی چه د هغو ساتنه او رعایت پر هر مسلمان باندی ضروری دی.

---

يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ ؕ

---

پورته کوی الله هغه کسان چه ایمان راوړی دی له تاسي څخه (په طاعت فرمان برداری د ده) او( خاص پورته کوی) هغه کسان چه ورکړی شوی دی دوی ته علم یوه په درجو مرتبو کښي.

---

**تفسیر:** یعنی صادق ایمان او صحیح علم سړی ته ادب او تهذیب ورښیی او متواضع کوی یی. علم او د ایمان خاوندان چه هومره کمالاتو ته ورسیږی او لوړو (اوچتو) مرتبو ته وخیژی او پرمخ تگ وکړی هومره ځان ښکته - مات - متواضع او ناخیزه گڼی. نو ځکه الله تعالیٰ د هسی سړیو درجی لا پسی وچتوی او دوی لا د پت او د عزت خاوندان کوی **(من تواضع رفعه الله)** دا د متکبرانو - بی دینانو جاهلانو - ناپوهانو کار دی چه په لږ خبره باندی جگړی نښلولی او سره ځانونو سره او شنه کوی یا په دومره یوه خبره باندی خفه کیږی چه ولی زه له دی ځایه

پاڅیدم؟ او ولی هلته کیناستم؟ یا پاڅولی او کینولی شوی یم؟ یا ولی له مجلسه د باندی ووتم یا وویستلی شوم؟ د افسوس ځای دی چه نن ډیر ناپوهه مشران او په نامه سره مشهور ملایان د دی خیالی اعزازاتو په سلسله او لړ کښی په یو پای (آخر) ته نه رسیدونکیو جګړو کښی سره نښتی دی او هر یو پخپلو سنګرو او مورچلو کښی کلک ناست دی او در ګرده (توله) پر موهومو شیانو باندی سره جنګیږی ﴿ إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ﴾

وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿١١﴾

او الله په هغو (کارونو) چه کوئ تاسو ښه خبردار دی (نو جزاء به پری درکړی).

**تفسیر:** یعنی هر یوه ته د هغه له کار ـ لیاقت او درجی سره سمه مرتبه ښښی ـ او هغه الله اکرم شانه واعظم برهانه ته ښه معلوم دی چه کوم یو په رښتیا سره ایماندار او د علم خاوند دی.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نَاجَيْتُمُ الرَّسُولَ فَقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوَاكُمْ صَدَقَةً ذَٰلِكَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَأَطْهَرُ فَإِن لَّمْ تَجِدُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢﴾

ای هغو کسانو چه ایمان مو راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو) کله چه (اراده کوئ د پټو خبرو) له رسول سره نو وړاندی کړئ په مخکښی د راز خپل څه صدقه خیرات (فقراؤ لره) دغه تقدیم د صدقی پخوا له پټو خبرو نه خیر بهتر ډیر غوره تاسی لره او ډیر پاکیزه دی نو که بیا نه مومئ (تاسی هغه شی چه صدقه ئې کړی،) پس بیشکه الله ښه مغفرت کوونکی (د خطیاتو) ډیر رحم والا دی (په انعام د اجر او ثواب سره).

**تفسیر:** منافقانو به بی فائدی خبری د رسول الله صلی الله علیه وسلم په غوږ کښی ویلی او په دی چل به ئې خپله لوئی او نژدیوالی نورو ته وړښود او ځینو مسلمانانو به هم غیر مهمی خبری د حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په غوږ کښی په ورو سره ویلی او د هغوی وخت به بی خرابولو او نورو ته به ئی موقعه نه ورکؤله چه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له فیضه مستفید شی یا که کوم وقت رسول الله مبارک غوښتل چه ګوښی (بیل) کینی او لږ څه خلوت شی نو

هلته به هم خلق ورننوتل او هغه ځای به ئ هم تنګوؤ او دوی به ئ پخپل فکر نه پری ښودل او د هغوی په چار چاپیر کښی به ډیر سری غونډیدل خو رسول الله صلی الله علیه وسلم د مروت او اخلاقو له سببه هیچاته هیڅ نه ویل نو ځکه داسی حکم را نازل شو «هر څوک چه غواړی له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره پټی خبری او څه مصلحت وکړی ښائ چه پخوا له هغه فقیرانو او مسکینانو ته څه خیرات ورکړی!» د دی حکم په منلو کښی څو ګټی دی ـ د غریبانو او فقیرانو سره امداد او معاونت کیږی او د خیرات ورکوونکی د نفس تطهیر او تزکیه په عمل راځی ـ او د منافق او مخلص مسلمان معرفی او پیژندګلو په ښه شان سره کیږی او د پټو خبرو د کوونکیو لږ توب په عمل راځی که له چا سره به د خیرات ورکولو څه شی نه ؤ نو هغه له دی قید معاف ؤ ګله چه دا حکم رانازل شو نو منافقانو د بخل او کنسکی لامله (له وجی) هغه عادت پری ښود ـ او مسلمانان هم وپوهیدل چه ډیر پټی خبری کول د الله تعالیٰ نه خوښیږی او د دی دپاره ئ داسی حکم رانازل کړی دی په پای (آخر) کښی دا حکم په راتلونکی آیت سره منسوخ وفرمایه.

ءَاَشْفَقْتُمْ اَنْ تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَىْ نَجْوٰىكُمْ صَدَقٰتٍ ۚ فَاِذْ لَمْ تَفْعَلُوْا وَتَابَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ۗ وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۳﴾

آیا ویریږئ تاسی (له فقر) چه وړاندی کړی به مخکښی د پټی خبری ستاسی صدقات خیراتونه پس په هغه وقت کښی چه ونه کړ تاسی دغه (خیرات) او رجوع په رحمت سره وکړه الله پر تاسی باندی نو قائم کړئ سم ودروئ (سره له ټولو حقوقو) لمونځ او ورکړئ تاسی زکوٰة او حکم ومنئ تاسی د الله او (حکم ومنئ تاسی) د رسول د دغه (الله) او الله ښه خبردار دی په هغو اعمالو باندی (هم) چه کوئ تاسی (نو جزاء ئ به درکړی).

**تفسیر:** یعنی د صدقی د ورکولو له حکم څخه کوم مقصد چه ؤ هغه حاصل شو اوس مو دا مؤقت حکم له تاسی څخه پورته کړ. ښائ چه تاسی د هغو حکم په تعمیل کښی په صدق او د زړه له کومی څخه زیار (کوشش) وکړئ چه هیڅ منسوخ کیدونکی نه دی او هغه لمونځ روژه او نور حسنات دی چه له دوی څخه د تاسی د نفس پوره تطهیر او تزکیه کیږی

**تنبیه:** له ﴿ فَاِذْ لَمْ تَفْعَلُوْا ﴾ څخه ښکاری چه پر دی حکم باندی په عام دول (طریقه) سره د عمل کولو وار نه دی راغلی. په ځینو روایاتو کښی راغلی دی چه حضرت علی کرم الله وجهه فرمایلی

دی چه په دی حکم باندی د محمدی امت له منځه یواځی ما عمل کړی دی.

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ تَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ

آیا نه ګوری ته (ای محمده!) هغو (منافقانو) ته چه دوستی کوی له (هغه) قومه (د یهودانو) سره چه غضب کړی دی الله پر هغوی باندی،

**تفسیر:** دا خلق منافقان او هغه قوم او تبر یهودان دی (چه دغه منافقین له هغو یهودانو سره دوستی او همدردی کوی)

مَا هُمْ مِنْكُمْ وَلَا مِنْهُمْ

نه دی دغه (منافقان) له تاسی (مؤمنانو) څخه او نه له هغو (یهودانو) څخه.

**تفسیر:** یعنی منافق نه په پوره ډول (طریقه) په تاسی مسلمانانو کښی شامل دی ځکه چه په پټه کافر دی او نه په پوره ډول (طریقه) په هغو یهودانو کښی ګډ او شامل دی ځکه چه په ښکاره سره ځان مسلمان بولی ﴿ مُذَبْذَبِينَ بَيْنَ ذَٰلِكَ لَا إِلَىٰ هَٰؤُلَاءِ وَلَا إِلَىٰ هَٰؤُلَاءِ ﴾

وَيَحْلِفُونَ عَلَى الْكَذِبِ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿١٤﴾

او قسمونه خوری (منافقان په دعوی د اسلام) په دروغو باندی حال دا چه دوی پوهیږی (پخپلو دروغو)

**تفسیر:** قسمونه خوری منافقان په دعوی د اسلام او احترام د سیدالانام صلی الله علیه وسلم حال دا چه دوی پوهیږی چه دروغ وائی او دروغ هم له بی خبری او غفلت څخه نه بلکه په قصد سره پر دروغو خبرو باندی قسمونه خوری. مسلمانانو ته وائی ﴿ إِنَّهُمْ لَمِنْكُمْ ﴾ هغوی له تاسی څخه دی او تاسی غوندی په رښتیا سره مسلمانان دی او حال دا دی چه هغوی له اسلام سره له لری نه هم څه نسبت نه لری .

أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا

تیار کړی دی الله دوی ته عذاب ډیر سخت

**تفسير:** چه د هغوی په نسبت د دی پاک قرآن د (النساء) د سورت په (۲۱) رکوع ۱٤٥ آیت کښی داسی ویلی شوی دی ﴿ إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ فِي الدَّرْكِ الْاَسْفَلِ مِنَ النَّارِ ﴾

إِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ⑮

بیشکه دوی لره بد دی هغه شی چه ؤ دوی چه کول به ئې (له گناهونو).

**تفسير:** یعنی که څه هم اوس هغوی ته د دوی بد کارونه په نظر ورنشی خو هغوی د نفاق په کارونو کښی هسی سره بوخت (مشغول) دی چه ځان ته ډیر خراب تخم کری او خپل ځانونه پخپلو لاسو سره په بلا اخته کوی.

اِتَّخَذُوْٓا اَيْمَانَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ⑯ لَنْ تُغْنِيَ عَنْهُمْ اَمْوَالُهُمْ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ؕ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ؕ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ⑰

گرځولی ئې دی قسمونه خپل ډال (چه پری ساتی سر او مال خپل) پس منع ستانه کړل دوی (په دغو قسمونو سره مؤمنان له لاری د الله (له جهاد) څخه (له دوی سره) پس دوی لره دی عذاب سپکوونکی. له سره به دفع نه کړی له دوی څخه (په قیامت کښی) مالونه د دوی او نه اولاد د دوی له (عذابه د) الله څخه هیڅ څیز دغه کسان یاران ملګری د دوزخ دی دوی به په دی دوزخ کښی تل اوسیدونکی وی.

**تفسير:** یعنی د دروغو په قسمونو سره خپل ځانونه او مالونه د مسلمانانو له لاسو څخه ساتی او خپل ځان مسلمان ورښکاروی او د دوستی او خپلوی په ډول (طریقه) نور سری هم د اسلام له لاری څخه وباسی. نو په یاد ئې ولرئ. چه داسی خلقو ته په دی ډول (طریقه) سره هیڅ یو پت او عزت نه پاتی کیږی او د ذلت او سپکتیا په سختو ربړو (تکلیفونو) او عذابونو ککړ کیږی کله چه د سزا وقت راورسیږی نو دوی د الله تعالیٰ له لاسه خپل ځانونه نشی ژغورلی (بچ کولی) او دوی ته د دوی هغه مالونه او اولادونه څه مرسته (امداد) او مدد رسولی نشی چه دوی د هغو د حفاظت لپاره په دروغو سره قسمونه پری خوړل.

يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ جَمِيْعًا فَيَحْلِفُوْنَ لَهٗ كَمَا يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ عَلٰى شَيْءٍ ؕ

(یاده کړه ای محمده!) هغه ورځ چه ژوندی پورته کړی (دوی) الله تول نو قسمونه به خوری دوی هغه (الله) ته لکه چه قسمونه خوری دوی تاسی ته (په دنیا کښې ای مسلمانانو) او گمان به کوی (دوی) چه بیشکه دوی په پوی دی (نفعمن او پر کومه ښه لاره درومی)

**تفسیر:** یعنی د دی ځای هغه روږد شوی عادت به هلته هم له دوی سره وی لکه چه دلته ستاسی په مخ کښې په دروغو سره ځانونه ساتی او داسی گڼی چه مونږ ډیر هوښیار یو ـ او ډیر ښه چالونه چلوو د الله تعالیٰ په مخ کښې به هم د دروغو قسمونو په یادولو سره ځان تیاروی او وائی ای پروردگاره مونږ خو داسی نه وو او داسی وو ښائی دوی داسی گڼی چه هلته به هم په داسی اقوالو او ویناؤ سره نجات مومو ا.

اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ⑱

واورئ! خبردار شئ! چه بیشکه دوی هم دوی دی دروغجنان (چه له الله سره هم دروغ وائی)

**تفسیر:** بیشکه چه اصل او دبل دروغ هغه دی چه د الله تعالیٰ په مخ کښې ئې هم وائی او د خپلو هغو دروغ ویلو څخه هیڅ نه شرمیږی.

اِسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطٰنُ فَاَنْسٰهُمْ ذِكْرَ اللّٰهِ ؕ

غالب شوی دی پر دوی باندی شیطان نو هیر کړی دی شیطان له دوی نه ذکر ـ یاد د الله.

**تفسیر:** پر هر چا باندی چه شیطان داسی پوره لاس ولری نو د هغه زړه او دماغ داسی مسخ او بدلیږی چه هیڅ یو شی ئې په یاد نه پاتی کیږی او په دی باندی هیڅ نه پوهیږی چه آیا پاک الله هم شته؟ که نه؟ دا کمبخت د الله تعالیٰ له عظمت لوئ ـ جلال او کبریا څخه ځان نه خبروی

او داسی خیال کوی چه په قیامت کښی به هم د دروغو په مرسته (مدد) خپل ځان ژغوری (بچ کوی) ـ او په دی باندی نه دی خبر چه دی پخپل دی وضعیت سره د خپلی بی‌حیائی ـ حماقت او ناپوهی اعلان کوی او دغه ممسوخ په دغومره یوه خبره هم نه پوهیږی چه د ده دروغ د الله تعالیٰ په دربار کښی هیڅ نه چلیږی .

أُولَٰئِكَ حِزْبُ الشَّيْطَانِ ۚ أَلَا إِنَّ حِزْبَ الشَّيْطَانِ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿١٩﴾

(دغه هیروونکی کسان) لښکر د شیطان دی واوریٔ! خبردار شیٔ! بیشکه لښکر تابعان د شیطان هم دوی دی زیانکاران (چه ئ ورکړل د لاسه باقی نعمتونه او ځانونه ئی وغورځول په ابدی زحمت کښی)

**تفسیر:** د شیطانی لښکرو انجام ضرور خراب دی نه په دنیا کښی د دوی مکر فریب منصوبی د وروستنی بری مخ لیدلی شی او نه په آخرت کښی له سخت عذاب څخه خپل ځانونه ژغورلی (بچ کولی) شی.

إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُولَٰئِكَ فِي الْأَذَلِّينَ ﴿٢٠﴾ كَتَبَ اللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِي ۚ إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿٢١﴾

بیشکه هغه کسان چه مخالفت کوی له الله او له رسول د دغه (الله) څخه دغه (د مخالفانو تولی) په (جملی د) ذلیلانو مغلوبانو کښی دی لیکلی دی الله (په لوح محفوظ کښی) چه خامخا به غلبه بری وکړم هرومرو (خامخا) زه او رسولان ځما بیشکه الله ډیر قوی دی ښه غالب دی.

**تفسیر:** یعنی له الله تعالیٰ او د ده له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مقابله کوونکی چه د حق او صداقت په خلاف جنګیږی سخت ناکام ـ او سپک او ذلیل دی پاک الله په لوح محفوظ کښی لیکلی دی چه په پای (آخر) کښی یواځی حق او حقانیت لره بری او غلبه ده او د ده پیغمبران هرومرو (خامخا) مظفر او منصور کیږی دغه تقریر پخوا له دی په څو څو نورو ځایونو کښی هم تیر شوی دی.

لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ

وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ
أُولَٰئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ

او نه به مومی ته (ای محمده او نه ښائیږی چه بیامومی) یو قوم چه ایمان ئی راوړی وی په الله او په ورځی آخری (د قیامت) چه دوستی به کوی دوی له هغه چا سره چه مخالفت کوی له الله او له رسول د دغه (الله) نه اگر که وی (دغه مخالفین) پلرونه د دوی او ځامن د دوی یا ورونه د دوی یا (نور قبیله) خپلوان د دوی دغه (قوم چه له اعداء الله سره دوستی نه کوی) لیکلی دی (الله) په زړونو د دوی کښی ایمان.

**تفسیر:** یعنی ایمان د هغوی په زړونو کښی داسی ټینگ ثبت شو لکه هغه لیکه چه پر دبره باندی لیکلی شوی وی.

وَأَيَّدَهُمْ بِرُوحٍ مِنْهُ

او قوی کړی ئی دی دوی په غیبی فیض مدد له نزده خپل څخه، (او قوی کړی قوت ورکړی دی الله تعالیٰ دوی لره په روح رحمت نصرت خپل سره یا په نور رڼا (رڼرا) د زړه یا په قرآن عظیم‌الشان سره)

**تفسیر:** یعنی غیبی رڼا (رڼرا) ئی ورته عطاء وفرمایله چه له هغی څخه زړه ته یو راز (قسم) ځان ته معنوی ژوندون وررسیږی یا د **(روح القدس جبریل)** په وسیله سره ئی مرسته (مدد) وفرمایله.

وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا رَضِيَ اللَّهُ
عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ

او داخل به کړی دوی (الله) په جنتونو کښی چه بهیږی له لاندی د (ونو او مانیو د هغو (څلور قسمه) ویالی تل به وی دوی په هغو (جناتو) کښی، راضی شو الله له دوی څخه (په طاعت سره) او راضی شول دوی له الله څخه (په

موندلو د جنت). (او خوشال شو الله تعالیٰ له دوی نه په سبب د طاعت سره په دنیا کښې او خوشاله شول دوی له الله تعالیٰ څخه په موندلو د لقاء او رضاء او عطاء د جنت په آخرت کښې)

**تفسیر:** یعني دا خلق د پاک الله دپاره له ګردو (تولو) اعداء الله څخه خپه او ناراض شوی دی نو الله تعالیٰ له هغوی څخه خوښ دی له هر چا څخه چه الله تعالیٰ خوښ وی نو دی نور څه غواړی.

ای رب العالمینه! وګرځوه مونږ له دغو څخه!

أُولَٰٓئِكَ حِزْبُ اللَّهِ ۚ أَلَآ إِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿۲۲﴾

دغه (خلق) دی حزب ـ لښکر د الله، واورئ ! خبردار شئ ! چه بیشکه لښکر د الله چه دی هم دوی دی په مراد رسیدونکی بریالیان (کامیاب) .

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «یعني هغه څوک چه د الله تعالیٰ له مخالفینو سره دوستی نه لری اګر که ئی پلار وی یا نور خپلوان هم وی هغه هم رښتونی مسلمانان دی او هغو ته هم دا درجه وررسیږی» د کرامو صحابه ؤ هسی شان ؤ چه د الله تعالیٰ او د ده د رسول الله صلی الله علیه وسلم په معاملو کښې به ئی د هیڅ څیز او هیچا پروا نه کوله په هم دی سلسلې کښې د احد په غزا کښې حضرت ابو عبیده رضی الله تعالیٰ عنه خپل پلار وواژه د بدر په غزا کښې ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه د خپل ځوی د مقابلې دپاره ځان تیار کړ مصعب بن عمیر رضی الله تعالیٰ عنه د خپل ورور عبید بن عمر بن خطاب رضی الله تعالیٰ عنه د خپل نیاې عاص بن هشام ـ علی بن ابی طالب رضی الله تعالیٰ عنه حمزه ـ عبیده بن الحارث د خپلو خپلوانو مخې ته چه عتبه ـ شیبه او ولید بن عتبه ؤ ووتل او هغوی ئی ووژل ـ او رئیس المنافقین عبدالله بن ابی یعني د عبدالله ځوی چه هغه هم عبدالله نومیده او د ابی لمسی ؤ د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په مخ کښې د مریسیع په غزا کښې عرض وکړ چه یا رسول الله صلی الله علیه وسلم که ستاسی امر وی نو زه د خپل پلار سر اوس پری کوم او ستاسی په حضور کښې یې لکه یو پندوس غورځوم خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا خبره خوښه نه شوه. **فرضی الله عنهم و رضوا عنه و رزقنا حبهم واتباعهم واماتنا علیه آمین.**

**تمت سورة المجادلة فلله الحمد والمنة .**

سورة الحشر مدنية وهی اربع وعشرون آية و ثلث رکوعات رقمها (۵۹) تسلسلهاحسب النزول (۱۰۱) نزلت بعد سورة «البينة»

د «الحشر» سورت مدنی دی ، (۲٤) آیته او دری رکوع لری ـ په تلاوت کښی (۵۹) او په نزول کښی (۱۰۱) سورت دی وروسته د «البينة» له سورته نازل شوی دی

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ○

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الۡاَرۡضِ ۚ وَهُوَ الۡعَزِیۡزُ الۡحَکِیۡمُ ①

نسبت د پاکی کوی الله ته هر هغه چه په آسمانونو کښی او هر هغه چه په ځمکه کښی دی (سره له آسمانونو او ځمکی) او هم دغه (الله) ښه غالب دی ښه حکمت والا دی.

**تفسیر:** لکه چه د هغه د زبردستی غلبی او د حکمت له اثارو څخه یوه پیښه او واقعه وروسته له دی نه بیانیږی.

هُوَ الَّذِیۡۤ اَخۡرَجَ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا مِنۡ اَهۡلِ الۡکِتٰبِ مِنۡ دِیَارِهِمۡ لِاَوَّلِ الۡحَشۡرِ ؕ

دغه (الله) هغه ذات دی چه ایستلی دی هغه کسان چه کافران شوی ۆ له اهل د کتابونو څخه له کورونو خپلو څخه په اول د ایستلو د دوی (له مدینی نه شام ته دوهم ایستل د دوی له خیبر نه شام ته د حضرت عمر په خلافت کښی دی).

**تفسیر:** له مدینی منوری څخه د مشرق په لوری د څو کروهو په فاصله (واټن) کښی د یهودانو د قوم او ټبر یو کلی ۆ چه بنی نضیر باله کیده. دا ټبر د ډیرو سریو او شتو ـ مالونو خاوند ۆ. او پخپلو کلکو او مضبوطو کلاؤ (قلعو) باندی ئی زیات اطمینان او ډیره ډاډینه (سکون) لرله. ځمونږ پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم کله چه هجرت وفرمایه او په مدینی منوری کښی

ئی هستوګنه غوره کړه. نو ړومبی دوی له مسلمانانو سره د روغی ترون وکړ. او داسی یی غوته کړه چه مونږ به ستاسی په مقابله کښی د نورو مرستی (مدد) نه کوو یعنی د عدم تعرض معاهده ئی وتړله بیا دوی د خیانت (درغلی) له مخی د مکی معظمی له کافرانو سره په پټه مکاتبی - لیکنی خبری - اتری کولی تر څو چه د دوی یو لوی مشر کعب بن اشرف له څلویښتو سورو سره مکی معظمی ته ځان ورساوه او له بیت الله سره مخامخ د مسلمانانو په مخالفت له قریشو سره ئی معاهده او ترون وکړو څه موده وروسته د الله او رسول صلی الله علیه وسلم له امر سره سم دغه (کعب) د خپلی دغی درغلی او خیانت لامله (له وجی) د محمد بن مسلمه رضی الله تعالیٰ عنه له لاسه وواژه شو بیا هم د بنی نضیر له لوری د غداری او بد عهدی سلسله جاری وه. د مکر فریب او دغابازی له مخی دوی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم سره له څو تنو اصحابانو وبلل چه پخپلو کورونو کښی ئی په مکر فریب او درغلی سره ناڅاپه په شهادت ورسوی یو ځلی ئی د یوی لوړی په څنګ کښی پر رسول الله صلی الله علیه وسلم له پاسه یو د ژرندی پل(آسیا سنګ) ور ورغړاوه چه که ځمونږ په پیغمبر صلی الله علیه وسلم باندی لګیدلی وی نو به شهادت به رسیدلی و مګر په دی ګردو (تولو) مواقعو کښی د الله تعالیٰ په فضل او مرحمت سره اسلام او مسلمانانو د دوی له شرورو څخه نجات وموند. بالاخر رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له مسلمانانو سره یوه جرګه وکړه او په هغی کښی ئی دا سره غوته کړه چه له بنی نضیر سره دی غزا وشی. کله چه مسلمانانو په ډیر سرعت ګرندیتوب او تلوار سره په هغوی باندی حمله یرغل ور ووړ او د دوی ګردی (تولی) کلاوی او کلی یی کلا بند او محاصره کړل. نو ځکه دوی سخت مرعوب شول او ووبریدل - او د ویری او دار لامله (له وجی) له خپلو کلاو څخه د باندی په ډګر(میدان) جګړی ته راونه وتل او عمومی جنګ ته وار ونه رسید او بیا یی د روغی غوښتنه وکړه. تر دی چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په دوی باندی داسی مرحمت او مهربانی وفرمایله چه دوی دی له مدینی منوری څخه د باندی ووځی د دوی سرونه او وینی به ساتلی وی. دوی دی د خپلو منقوله ؤ اموالو څخه هومره شیان چه وړی یی شی یو دی سی خو د دوی غیر منقوله مالونه به د مسلمانانو په لاسو کښی وی د الله تعالیٰ په حکم هغه کلاوی او ځمکی او نور د مسلمانانو په لاس او قبضه کښی ولویدل خو د غنائمو په ډول (طریقه) ونه ویشلی شوی بلکه یواځی ځمونږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په واک (قبضه) کښی پاتی شوی حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د دی ځمکی زیاتره برخه پر مهاجرینو باندی وویشله او د هغو مصارفو بار او پیتی ئی د انصارو له اوږو څخه سپک کړ چه انصارو به پر مهاجرینو کول او په دی ډول (طریقه) سره دواړو ته له هغه ځنی ګټی ورسیدی. او هم رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د خپلی کورنی خرخ او د نبوت د مقام کلنی مصارف له هم دی جائداده اخیسته. که له داسی مصارفاتو څخه څه شی بیرته پاتی کیده هغه به ئی د الله تعالیٰ په لاره کښی صرفول .

په دی سورت کښی د هم دی قصی په لوری اشاره شوی دی چه الله تعالیٰ همغه غالب قوی حکمت والا ذات دی چه دپاره د ذلیل کولو ئی وویستل هغه کسان چه کافران شوی ؤ له اهل کتاب

شخه چه یهودان د بنی نضیر ؤ له کورونو خپلو نه چه په ځمکه د مدینی منوری کښی ؤ په اول د جمع کیدلو د لښکرو سره یعنی یواځی په همغه یو یرغل (حمله) سره ودار شول او په همغی رومبنی جګړی کښی ئی خپل کور او کلی او کلکی کلاوی ویجاړی پریښودلی او له مدینی شخه وتښتیدل او هیڅ یوه میړانه (بهادری) او ثابت قدمی ئی له ځانه ورښکاره نه کره

**تنبیه:** له «اول الحشر» شخه ځنی مفسرین داسی مراد اخلی چه د یهودانو دغو تبرو ته د وطن پریښودل اول ځلی ور د مخه شول چه پخوا له دی شخه دوی له داسی پیښی سره مخامخ شوی نه ؤ یا په (اول الحشر) کښی به د دی په لوری اشاره وی چه د یهودانو اول حشر خو هم دا دی چه مدینه منوره ئی پریښوده او په ډیر شمیر د خیبر او نورو ځایونو په لوری لاړل او دوهم حشر به ئی هغه وی چه د حضرت عمر د خلافت په عهد کښی ورپیښ شو یعنی د نورو یهودانو او نصرانیانو سره دوی هم له خیبره وویستل شول او د شام په لوری واستول شول چه هلته به هم د هغوی وروستنی حشر کیږی نو ځکه شام ته ارض المحشر هم وائی.

مَا ظَنَنْتُمْ اَنْ يَّخْرُجُوْا وَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ مَّانِعَتُهُمْ حُصُوْنُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ فَاَتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوْا وَقَذَفَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبَ

ګمان نه کاوه تاسی (ای مؤمنانو) چه وبه ځی دوی (له مدینی نه) او ګمان نه کاوه دوی چه بیشکه دوی لره منع کوونکی ساتونکی دی کلاوی د دوی له (عذابه د) الله پس راغی پر دوی (عذاب د) الله له هغه ځایه چه ګمان نه کاوه دوی او واچوله (الله) په زړونو د دوی کښی ویره.

**تفسیر:** یعنی د هغوی د ساز او سامان تینګو کلاو ـ او د توریالی توب او میړانی (بهادرئ) په نسبت به ستاسی خیال داسی نه ؤ چه تاسی دومره زر به هغوی پره کوئ او دوی خپلی وسلی له لاسو غورځوی او نه د هغوی داسی خیال ؤ چه دا وړوکی او بی وسلی او بی سامان د مسلمانانو تولی دوی هسی مغلوب او منکوب کری. هغوی د غفلت په دی خوب کښی تللی ؤ چه دا مسلمانان چه د هغوی په سر باندی د پاک الله لاس دی ځمونږ تر تینګو کلاو پوری، چیری رسیدی شی او ښائی چه مونږ به د خپلو ښو وسلو ـ او کلکو مورچلو او میړانی په سیوری کښی د الله له عذابه ساتلی یو مګر خو هغوی ولیدل چه هیڅ یو قوت او طاقت د الله تعالیٰ د حکم مخه نشی نیولی. پر دوی باندی د پاک الله حکم له هغی خوا راورسید چه له هغی خوا نه د هغوی خیال او ګمان هم نه ؤ یعنی د هغوی په زړونو کښی الله تعالیٰ ویره واچوله او د بی وسلو او بی شتو مسلمانانو دار ئی پر هغوی باندی کیښود یو خو هغوی د خپل مشر کعب بن اشرف له ناڅاپی وژلو شخه ډیر مرعوب او ترهور ؤ اوس نو د مسلمانانو له دی ناڅاپی حملی او یرغل

ځنی ئی خپل حواس بالکل له لاسه وویستل.

يُخْرِبُونَ بُيُوتَهُمْ بِأَيْدِيهِمْ وَأَيْدِي الْمُؤْمِنِينَ

چه ورانول به ئې کورونه خپل په لاسو خپلو سره (چه پری ولی مسلمانان یا چه پکښی هستوګنه ونه کړی ځوک) او په لاسو د مؤمنانو سره (چه وران کړی ځای د پناهی او ارت شی ورته ځای د جنګ)

**تفسیر:** یعنی د حرص ـ غیظ ـ غضب او قهر په جوش کښی به ئی د خپلو ودانیو ځنځیرونه ـ ورونه ـ دړی او نور شلول ـ ماتول ـ ورانول او نړول به ئی تر څو له هغو شیانو څخه چه دوی ئی له خپلو ځانونو سره نشی وړی مسلمانان ګټور نشی. په دی کار کښی مسلمانانو هم له هغوی سره ښی مرستی (مدد) کولو یعنی له یوه لوری هغوی په نړولو سره مشغول او بوخت ؤ او له بل لوری مسلمانانو هم د هغوی هغه ودانی ورانولی چه دوی هلته مورچل نیولی ؤ که په غور سره وکتل شی هغه ورانی او تباهی چه د مسلمانانو له لاسه رسیدلی وه هغه هم د هم دی بدبختانو د بد عهدیو او شرارتونو په نتیجه کښی وه.

فَاعْتَبِرُوا يَا أُولِي الْأَبْصَارِ ۝٢

پس عبرت واخلئ تاسی ای خاوندانو د سترګو (عقلونو په احوالو د دوی)

**تفسیر:** یعنی خاوند د بصیرت ته په دی واقعی کښی لوی عبرت دی. الله تعالیٰ دا وروښوول چه د ظلم ـ کفر، شرک ـ او بدعهدی انجام څرنګه کیږی؟ او یوائځی په ظاهری اسبابو باندی داده کیدل او د الله تعالیٰ له قدرت او قوت څخه غافل اوسیدل د پوهانو کار نه دی.

وَلَوْلَا أَنْ كَتَبَ اللَّهُ عَلَيْهِمُ الْجَلَاءَ لَعَذَّبَهُمْ فِي الدُّنْيَا ۖ وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابُ النَّارِ ۝٣

او که نه وی لیکلی (مقرر کړی) الله په دوی باندی وتل (فرار کول) له وطنه نو خامخا په عذاب کړی به ؤ (الله) دوی لره په دنیا کښی (په وژلو او بندی کولو سره) او دوی لره دی په آخرت کښی عذاب د اور.

**تفسیر:** یعنی د هغوی په برخه له وطنه جلا (جدا) کېدل لیکلي و که دا ئې په قسمت کښې نه وی لیکلي نو بله کومه دنیوی سزا به هغوی ته ورکوله کېده او د بنی قریظه په شان به وژل کېدل لنده ئې دا چه له سزا څخه به دوی خپل ځانونو نشو بچ کولی دا د الله تعالیٰ حکمت دی چه د وژلو په ځای د هغوی په جلا وطنی سره اکتفا وشوه مگر خو دا تخفیف یوازې د هغوی په دنیوی سزا کښې شوی دی ځکه چه د آخرت ابدی سزا په هیڅ دول (طریقه) سره له کافرانو څخنی نه کمېږی «موضح القرآن» لیکی «کله چه دغه قوم او تبر له شامه تبتیدلی دلته راغلی ؤ د دوی مشرانو په همغه وقت کښې دوی ته ویلی ؤ چه یوه ورځ به ستاسی کورونه هلته ورانېږی او بیا به بېرته شام ته راتلونکی یئ! لکه چه د نبوی صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې د دوی کورونه هلته وران شول ځینی بېرته شام ته لاړل او ځینی په خیبر کښې پاتی شول ـ خو د حضرت عمر الفاروق رضی الله تعالیٰ عنه په خلافت کښې د تولو کورونه وران او بیا په شام کښې سره ودان شول».

---

ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ شَآقُّوا اللّٰهَ وَرَسُولَهُۥ ۖ وَمَن يُشَآقِّ اللّٰهَ فَإِنَّ اللّٰهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿۴﴾

---

دغه (تعذیب د دوی) په سبب د دی ؤ چه بیشکه ؤ دوی چه مخالفت به ئې کاوه له الله او له رسول د دغه (الله) سره او هر هغه چه مخالفت کوی له الله څخه نو بیشکه الله شدید سخت دی عذاب (د ده په دنیوی قتل نفی او اسارت او آخروی عقوبت)

---

**تفسیر** : یعنی داسی مخالفانو ته هم داسی سختی سزاگانی ورکولی کېږی

---

مَا قَطَعْتُم مِّن لِّينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا قَآئِمَةً عَلَىٰٓ أُصُولِهَا فَبِإِذْنِ اللّٰهِ

---

هغه چه پری کوئ تاسی له تنو د ونو د (کم اصلو) خرماؤ څخه یا ئې پرېږدئ هغه ولاړی په بیخونو خپلو باندی نو دغه (تول) په اذن حکم د الله سره دی .

---

**تفسیر:** کله چه دا قوم کلابند شو نو رسول الله مبارک صلی الله علیه وسلم اجازه وفرمایله چه د هغوی ځینی کم اصلی ونی دی پری کړی شی ! او هغه باغونه دی ویجاړ شی چه دوی د هغو تر شا پر مسلمانانو گزارونه کوی تر څو چه د هغو د درد لامله (له وجی) په بهر وتلو باندی مجبور

او په ډګر (میدان) کښې وجنګیږي او د ډګر(میدان) د جګړې په وخت کښې له ونو څخه غازیانو ته څه ربړ(زحمت) او تکلیف ورپېښ نشي . د دې امر په سبب ځینې ونې ووهلې شوې او ځینې ئې پاتې شوې تر څو له برې څخه وروسته د مسلمانانو په ښه ورشي . کافرانو په داسې طعنه ورکولو باندې شروع وکړه چه دوی خلقو ته پندونه ورکوي چه له فساده ځانونه وژغوري (وساتي) مګر دوی پخپله فساد کوي . ایا د ونو پرې کول او سوځول فساد نه دی ؟ نو ځکه دا آیت نازل شو چه دا ګردې (تولې) چارې د الله تعالیٰ اجل واعلیٰ شانه په اذن او حکم سره سمې شوې دي او د الله تعالیٰ د حکم تعمیل ته هیڅ کله هیڅوک فساد نشي ویلی ځکه چه هغه په ژورو حکمتونو او مصلحتونو باندې مشتمل وي لکه چه د دې حکم ځینې حکمتونه او مصالح پاس ولیکل شول.

---

وَلِيُخْزِيَ الْفٰسِقِينَ ۝٥

---

او (بل لپاره د دې دی) چه رسوا کړي (الله) فاسقانو نافرمانانو (یهودیانو) لره

---

**تفسیر:** یعني چه مسلمانانو ته عزت ورکړي او کافران خوار او سپک کړي لکه هغه ونې چه پاتې وې په هغو کښې د مسلمانانو ګټې او د کافرانو غیظ او خفګان ؤ ځکه چه هغوی به د دې پاتې ونو له کتلو څخه ویل چه دا ونې به د مسلمانانو شي ـ او هغوی به له دې ځینې ګټې اخلې او هغه ونې چه پرې شوې یا سوځولې شوې وې په هغو کښې د مسلمانانو برې ؤ چه د غلبې د اثارو ظهور ـ او د کفارو هسې غیظ او غضب منظور ؤ چه مسلمانان ځمونږ په شیانو کښې څرنګه تصرفات کوي . نو ځکه دواړه امور جائز او په حکمت باندې مشتمل دي

---

وَمَآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْهُمْ فَمَآ اَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَّلَا رِكَابٍ وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهٗ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ ۗ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝٦

---

او هغه مال چه راګرځولی دی الله په رسول خپل باندې له مالونو د دوی پس نه ؤ ځغلولې تاسې پر دوی هیڅ اس او نه هیڅ اوښ لیکن الله مسلطوي برې ورکوي رسولانو خپلو ته پر هغه چا باندې چه اراده وفرمائي او الله پر هر څیز باندې ښه قادر دی (چه ځینې ئې غلبه د احباؤ الله ده پر اعداؤ الله باندې).

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب لیکی «په غنیمت او فی کښی هم دا فرق او توپیر (تفاوت) شته هغه مال چه د جګړی او د جنګ په ډګر (میدان) کښی په لاس راځی هغه غنیمت دی چه د هغه پنځمه برخه د الله تعالیٰ نذر دی . چه د هغه تفصیل د لسمی پاری په شروع کښی تیر شوی دی . او نوری څلور برخی ئې پر لښکرو باندی ویشلی کیږی او هغه شیان چه بی له جنګه په لاس راځی هغه د ټولو مسلمانانو په خزانو کښی ایښودل کیږی . او د هغوی په عامو مصالحو او ضروری کارونو کښی لګول کیږی.

**تنبیه:** که له ډېر څه جنګ او جګړی څخه وروسته کفار مرعوب شی او صلحی او روغی ته مسارعت وکړی او مسلمانان ومنی په دی صورت کښی هغه مالونه چه له هسی روغی څخه په لاس راشی د هغه حکم هم په (فی) کښی داخل دی د نبوی صلی الله علیه وسلم په مبارک عهد کښی د فی په مالونو کښی یواځی حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم خپل تصرفات او اختیارات جاری کول . ښائی چه دا اختیارات د تملک او تصرف وی او یواځی حضرت نبوی صلی الله علیه وسلم لره مخصوص وی لکه چه له دی آیتونو څخه او د (علیٰ رسوله) له لفظ څخنی متبادر دی او احتمال لری چه محض حاکمانه وی په هر حال الله تعالیٰ د دی مالونو په نسبت دوی ته په راتلونکیو آیتونو کښی هدایت فرمائ چه وجوباً یا ندباً په هغو او دغو مصارفو کښی ولګول شی . له حضرت څخه وروسته داسی مالونه د امام په واک (اختیار) او تصرف کښی وی . خو د ده دا تصرف به مالکانه نه وی او یواځی حاکمانه به وی او هغه د ده په مشوره او فکر او ښوونه د مسلمانانو په عمومی ضروریاتو او مصالحو کښی صرف او لګول کیږی د غنیمت د مالونو حکم بیل دی او هغه وروسته د خمس له ایستلو څخه د ګردو (ټولو) لښکرو برخه کیږی لکه چه د الله تعالیٰ له دی ارشاد څخه څرګند (ښکاره) دی ﴿ وَاعْلَمُوٓا۟ أَنَّمَا غَنِمْتُم ﴾ الآیة - که لښکر پخپلی خوښی سره پری ښود شی هغه بیله خبره ده البته حنفی شیخ ابوبکر رازی په (احکام القرآن) کښی داسی لیکی چه دا د منقوله و اموالو حکم دی په غیر منقوله ؤ اموالو کښی امام لره اختیار او مصلحت دی که ئې وغواړی په لښکرو دی تقسیم کړی او که ئې وغواړی په عمومی مصالحو کښی دی صرف کړی لکه چه د عراق په سواد کښی حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه د ځینو جلیل القدرو اصحابو په مشوره په هم دی خبری باندی عمل وکړ . سم له دی مسلک سره رازی شیخ ابوبکر ﴿ وَاعْلَمُوٓا۟ أَنَّمَا غَنِمْتُم ﴾ پر منقوله ؤ اموالو او د دی د (حشر) د سوری آیتونه ئې پر غیر منقوله ؤ اموالو باندی حمل کړی دی په دی ډول (طریقه) چه د دی ړومبنی آیت

﴿ وَمَآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنْهُمْ ﴾ حکم په «فی» باندی او د دی ورستنی آیت ﴿ مَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنْ أَهْلِ ٱلْقُرَىٰ ﴾ حکم په غنیمت باندی محمول دی . او د لغت له مخی د غنیمت تعبیر د (فی) په لفظ باندی کیدی شی . والله تعالیٰ اعلم بالصواب.

مَآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْ اَهْلِ الْقُرٰى فَلِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ

هغه شي چه راگرځولی دی الله پر رسول خپل باندی له (مالونو د) اهل د قریو کليو (بی له جنگه) نو (هغه) دی الله لره او رسول (د الله) لره.

**تفسير:** په ړومنيو آيتونو کښی يوائحی د بنی نضيرو د مالونو د لگولو ذکر ؤ اوس د فی د مالونو په نسبت عمومی ضابطه راښيی . يعنی په فی باندی د رسول الله صلی الله عليه وسلم او وروسته له دوی څخه د امام قبضه او تصرف وی چه پر دغو خلقو ئې وويشی . د الله تعالیٰ ذکر دلته تبرکاً شوی دی ځکه چه دی د گردو (تولو) شيانو مالک دی . هو ! د کعبی شريفی او د مساجدو صرفيات چه د الله تعالیٰ په نامه ياديږی ممکن دی چه پکښی درج وی .

وَلِذِى الْقُرْبٰى

او (دغه اموال دی) خپلوانو د رسول (الله) لره.

**تفسير:** يعنی د حضرت خپلوانو څرنگه چه د نبوی په زمان کښی له دی مالونو څخه هغوی ته ورکول کيدل او په هغوی کښی د فقر او مسکنت قيد هم نه ؤ . لکه چه حضرت نبوی صلی الله عليه وسلم خپل تره حضرت عباس رضی الله تعالیٰ عنه ته چه يو بدای (غنی) مشر ؤ برخه ورکړه اوس هم وروسته له دوی څخه ځمونږ حنفيانو په مذهب کښی د پيغبر هغو خپلوانو ته چه اړ (مجبور) او محتاج وی پر نورو اړو (مجبورو) او محتاجانو باندی ترجيح ورکوله کيږی او ښائ چه امام هغوی ته پخوا له نورو څخه په مخ کښی برخه ورکړی .

وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ۙ كَیْ لَا يَكُوْنَ دُوْلَةًۢ بَيْنَ الْاَغْنِيَآءِ مِنْكُمْ

او (دغه اموال دی) يتيمانو لره او مسکينانو لره او مسافرانو لره (مقرر کړی دی الله دا قسمت) لپاره د دی چه ونه گرځی (دغه اموال) دولت په منځ د غنيانو کښی له تاسی څخه (چه له خپله حقه زيات واخلی او فقراؤ ته لږ ورکړی).

**تفسير:** يعنی دا مصارف ځکه راښوولی شوی دی چه مسلمانان تل د پلار مريو ـ اړو (مجبورو) ـ

بیکسانو او عامو مسلمانانو په پالنه او پوښتنه کښې متوجه اوسی ! او تل د اسلامی عمومی ضروریاتو او مصالحو ته خیال ولری ځکه چه داسی مالونه د بډایانو او دولتمندانو راکړه ورکړه او نورو ګټو دپاره نه دی . او نه ښائ چه هغه د هغوی د مخصوص جایداد په منزله وګرځی او یواځی بډایان پری مزی وکړی او خوندونه تری واخلی ـ او غریبان او اکربان له لوږی څخه ومری یا عمومی مصالح خراب او ویجاړ پراته وی .

وَمَآ اٰتٰكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ ۚ وَمَا نَهٰىكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۝۷

او هغه څه چه درکړی تاسی ته رسول (د الله) نو واخلئ وئ نیسئ قبول ئ کړئ! او هغه څه چه منع کوی (رسول الله) تاسی له هغه څخه نو بیرته شئ تری (مه ئ غواړئ) او وویریږئ له (عذاب د ) الله په ځان ساتلو له معاصیو بیشکه الله سخت دی عذاب (د ده).

**تفسیر:** یعنی مال او جائداد او نور چه سم د پیغبر صلی الله علیه وسلم له امر سره تقسیمیږی هغه د تقسیم امر دی په ډیر خوښی سره ومنلی شی . هغه چه دررسیږی هغه په خوښی سره واخلئ! او هغه ته چه ور نه کړ شی هغه دی لاس واخلی هم داسی د ګردو (تولو) احکامو او نواهیو منل او پابندی په کار ده .
ځکه چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نافرمانی د الله تعالیٰ نافرمانی ده . او وویریږئ که چیری د رسول الله د نافرمانی لامله (له وجی) الله تعالیٰ له تاسی څخه خفه نشی او سخت عذاب په تاسی مسلط ونه فرمائ .

لِلْفُقَرَآءِ الْمُهٰجِرِيْنَ الَّذِيْنَ اُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَاَمْوَالِهِمْ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا وَّيَنْصُرُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ۭ اُولٰۗىِٕكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ ۝۸

(دغه اموال دی) دپاره د فقیرانو هجرت کوونکیو (هغه مهاجران) چه ایستلی شوی دی دوی له کورونو کلیو خپلو څخه او له اموالو خپلو څخه په دی حال

کښې چه طلبوی دوی فضل ښېښه مهربانی له الله او رضاء (د ده) او مرسته (مدد) کوی له الله او له رسول د دغه (الله) سره (په نفسونو او مالونو خپلو سره) دغه (مهاجران) هم دوی دی صادقان رښتینی (په ایمان او جهاد کښې).

**تفسیر:** یعنی هسی خو په دی مال پوری د گردو (ټولو) مسلمانانو حوائج او ضروریات تعلق او اړه لری مګر په خصوصی ډول (طریقه) سره د ځان قربانونکو او ایثار خوښوونکیو رښتینو مسلمانانو حق مقدم او وړاندی دی چه هغوی یواځی د الله تعالیٰ په خوښی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په محبت او اطاعت له خپلو کورونو او مالونو او شتو څخه لاس وینځلی دی او بالکل په تش لاس له خپل هواده (وطنه) راوتلی دی تر څو د الله تعالیٰ او د هغه د رسول الله په کارونو کښې په زړه پوری پخپل سر او ازاد کار وکړی شی او هغه ته په ښه ډول (طریقه) مرسته (مدد) ورسوی.

وَالَّذِيْنَ تَبَوَّءُو الدَّارَ وَالْإِيْمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ

او هغو (انصارو لره دی دغه اموال) چه ځائ نیولی دی په (دی) کور (مدینه) کښې او (خالص کړی ئې دی خپل) ایمان پخوا له دغو (مهاجرانو) څخه.

**تفسیر:** له دی کور څخه مدینه طیبه مراده ده او دا خلق د مدینی منوری انصار دی چه د مهاجرینو له راتګه وړاندی ئې په مدینی منوری کښې هستوګنه لرله او د ایمان او عرفان په لارو کښې زیات مضبوط او مستقیم شوی ؤ.

يُحِبُّوْنَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ

خوښوی محبت کوی دوی له هغه چا سره چه هجرت ئې کړی دی دوی ته.

**تفسیر:** یعنی په مینه او محبت سره د مهاجرینو خدمت کوی تر دی چه پخپلو مالونو او شتو کښې ئې هغوی ته برابره برخه ورکړی ده او د هغوی په شریک ګرځولو کښې ئې خپل ځانونه تیار کړی دی.

وَلَا يَجِدُوْنَ فِيْ صُدُوْرِهِمْ حَاجَةً مِّمَّآ أُوْتُوْا وَيُؤْثِرُوْنَ عَلٰٓى

أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ

او نه مومي دوی په زړونو سينو خپلو کښې څه تنگي (حسد) له هغه شي څخه چه ورکړی شوی وی (مهاجرانو لره) او غوره کوی (مهاجران) مقدموی ئ پر خپلو ځانونو او اگر که وی پر دوی باندی تنگي (فاقه او حاجت هغه څه ته چه دوی ئ ايثاروی).

**تفسير:** يعني مهاجرينو ته هغه فضل او شرف چه الله تعالىٰ عطاء فرمايلي دی يا د فی په مالونو او نورو کښې هغه برخه چه رسول الله صلی الله عليه وسلم هغو ته عطاء فرمائ د هغوی له ليدلو څخه د انصارو زړونه نه خفه کيږی او په هغوی باندی کينه او حسد نه کوی بلکه پری خوشيږی او په هر شيز کښې هغوی پخپلو ځانونو باندی وړاندی گڼی پخپله دغه انصاريان مصاعب او متاعب ـ سختياوی او ربړونه (تکليفونه) وچتوی او په لوږه ئ تيروی مگر هغوی ته هرومرو (خامخا) څه نه څه وررسوی داسی بی مثله او بی ساری ايثار په دنيا کښې تراوسه پوری هيڅ يو قوم د بل قوم دپاره نه دی کړی .

وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ⑨

او هر هغه چه وساتلی شی له بخل د نفس د ده نه (او له حرص نه په مال باندی) نو هم دغه کسان دی هم دوی مراد موندونکی په مراد رسيدلی (په ثناء صفت د دنيا او په ثواب د عقبا سره).

**تفسير:** يعني ډير بريالی او کامياب دی هغه قوم چه د الله تعالىٰ په توفيق او لاس نيوی د هغوی په زړونو باندی طمع حرص او بخل هيڅ اغيزه (اثر) نشی اچولی ځکه چه طماع او بخيلان کله خپلو نورو ورونو ته څه ايثار او گته رسولی شی ؟ او د نورو په خوښی او هوسائی (آرام) باندی کله خوښيږی ؟.

وَالَّذِينَ جَاءُو مِن بَعْدِهِمْ

او (اموال) هغو (کسانو لره دی) چه راغلی دی راځی وروسته له دغو (مهاجرو او انصارو) نه .

**تفسير:** يعنى هغه كسان چه له مهاجرينو او انصارو څخه وروسته د وجود په عالم كښې راځى يا وروسته له دوى څخه د اسلام په حلقه كښې داخليږى يا له وړاندنيو مهاجرينو څنى وروسته ئې هجرت كړى مدينې منورى ته راغلى دى **والظاهر هو الاول.**

يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِيْمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِيْ قُلُوْبِنَا غِلًّا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا رَبَّنَآ اِنَّكَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۰﴾

وائى دوى چه اى ربه څمونږ مغفرت وكړه مونږ ته او هغو (دينى) ورونو څمونږ ته چه ړومبى داخل شوى دى (له مونږ څخه) په ايمان كښې او مه ګرځوه په زړونو څمونږ كښې بغض كينه د هغو كسانو سره چه ايمان ئې راوړى دى بيشكه ته (يا الله) ښه مهربانى كوونكى خورا (ډير) رحم والا ئې .

**تفسير:** يعنى دغه اخلاف او وروستنى كسان هغو اسلافو او سابقينو وړاندنيو ته د ښښنى دعاء كوى او د خپل هيڅ يو مسلمان ورور په نسبت ـ بغض او كينه په خپل زړه كښې نه لرى ـ حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليكى «دا آيت د ګردو (تولو) مسلمانانو دپاره دى چه وړاندنيو حق ومنى او د هغوى په پله باندى لاړ شى او د هغوى په نسبت هيڅ يوه كينه ـ حسد او بغض ونه لرى. امام مالك رحمة الله عليه له هم دى ځايه فرمائى هغه سرى چه د صحابه ؤ په نسبت بغض او كينه ولرى او د هغوى بدګوئى وكړى هغه لره د (فى) په مال كښې هيڅ يوه برخه نشته.

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ نَافَقُوْا يَقُوْلُوْنَ لِاِخْوَانِهِمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَئِنْ اُخْرِجْتُمْ لَنَخْرُجَنَّ مَعَكُمْ وَلَا نُطِيْعُ فِيْكُمْ اَحَدًا اَبَدًا ۙ وَّاِنْ قُوْتِلْتُمْ لَنَنْصُرَنَّكُمْ ط

آيا نه ګورى ته هغو كسانو ته چه منافقان دغابازان شوى دى وائى هغوى هغو ورونو خپلو (يهودانو) ته چه كافران شوى دى له اهل د كتابونو قسم دى كه خامخا وويستل شئ تاسى (له مدينى څخه) نو خامخا ويه وځو مونږ هرومرو (خامخا) له تاسى سره او نه به منو مونږ (خبره په ضرر د تاسى كښې) د

هیچا هیڅکله او که چیری جنګ شروع کړ شی له تاسی سره نو خامخا مدد به وکړو مونږ هرومرو (خامخا) له تاسی سره،

**تفسیر:** عبدالله بن ابی او نورو منافقانو د بنی نضیر یهودانو ته پیغام او پټه خبره ورلیږلی وه چه تاسی مه ویریږی او خپل ځانونو یوائی مه ګڼئ که مسلمانان غواړی چه تاسی له مدینی څخه وباسی نو مونږ به له تاسی سره دریږو که د جنګ او جګړی وار ورسید نو مونږ به له تاسی سره مرسته (مدد) کوو . دا ځمونږ قطعی او ناګرځیدونکی تینګه فیصله او پریکره ده او پرته (علاوه) له دی څخه مونږ ستاسی په جنګ او جګړه کښی د هیچا خبره نه اورو او نه د هیچا پروا کوو.

وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ⑪

او الله شاهدی ګواهی ورکوی چه بیشکه دوی خامخا دروغجنان دی (په هم دغو خبرو کښی).

**تفسیر:** یعنی دغه منافقان یهودانو ته دغه خبری له زړه څخه نه وائی یوائی د مسلمانانو په مخالفت خلق ورپورته کوی او هسی خبری کوی چه هغه د مسلمانانو په ګټه (فائده) نه وی او هغه خبری چه په ژبه وائ په هغو باندی هیڅ عمل نه کوی.

لَئِنْ اُخْرِجُوْا لَا يَخْرُجُوْنَ مَعَهُمْ ۚ وَلَئِنْ قُوْتِلُوْا لَا يَنْصُرُوْنَهُمْ ۚ

قسم دی که وویستل شی دغه (یهودان) (له کورونو خپلو نه) نه وځی دغه (منافقان له هغو یهودانو) سره (له کورونو خپلو نه) او که جنګ وکړ شی له هغو (یهودانو) سره نو مرسته مدد نه کوی دغه (منافقان) هغوی سره .

**تفسیر:** لکه چه په مدینی منوری کښی جګړه ونښته او د بنی نضیر یهودان محصور شول په هغه نازک حال کښی هیڅ یو منافق د دوی مرستی (امداد) او مدد ته ونه رسید په پای (آخر) کښی کله چه هغوی وویستل شول دغه منافقان په دی وقت کښی هم په ډیره خوشالی سره پخپلو کورونو کښی ناست ؤ .

وَلَئِنْ نَّصَرُوْهُمْ لَيُوَلُّنَّ الْاَدْبَارَ ۫ ثُمَّ لَا يُنْصَرُوْنَ ⑫

او که (اراده د) مدد مرستی (امداد) وکړی دغه (منافقان) دغو (یهودانو) لره خامخا وبه ګرځوی دغه (منافقان) په تیښته سره شاوی خپلی بیا به مدد مرسته (امداد) ونه مومی ونه کړ شی (منافقانو یهودانو سره وروسته له ماتی) .

**تفسیر:** یعنی لکه په فرض محال سره منافق د هغو یهودانو مرستی (مدد) ته راغلی وی نو نتیجه به ئ څه کیده ؟ پرته (علاوه) له دی څخه چه د مسلمانانو له مقابلی څخه بیرته وتښتی بله نتیجه نه لری او بیا به د دوی مرسته (مدد) څرنګه کیده نو د دوی د مرستی (مدد) دپاره به هم څوک نه رسیده .

لَأَنتُمْ أَشَدُّ رَهْبَةً فِي صُدُورِهِم مِّنَ اللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُونَ ﴿١٣﴾

خامخا تاسو (ای مؤمنانو څخه) ډیر سخت یئ له جهته د ویری په سینو زړونو د دغو (منافقانو) کښی له (ویری د) الله دغه ویره (د منافقانو له مؤمنانو څخه) په سبب د دی ده بیشکه چه دوی (داسی) قوم دی چه نه پوهیږی (نه پیژنی الله) .

**تفسیر:** یعنی که د الله تعالیٰ په عظمت باندی دغه منافقان پوهیدی او د هغوی په زړونو کښی د الله تعالیٰ خوف او ویره وی نو کفر او نفاق به ئ ولی غوره کاوه ؟ هو ! د مسلمانانو د شجاعت او میړانی (بهادرئ) څخه ویریږی ځکه د مسلمانانو په مقابل کښی نه شی ودریدلی . او نه د جنګ په ډګر(میدان) کښی له ځانه څه ثبات او توره او میړانه (بهادری) ورښوولی شی .

لَا يُقَاتِلُونَكُمْ جَمِيعًا إِلَّا فِي قُرًى مُّحَصَّنَةٍ أَوْ مِن وَرَاءِ جُدُرٍ ۚ

جنګ به ونه کړی دغه (یهودان) له تاسی سره (ای مؤمنانو) تول په ګډه سره مګر په قریو کلیو تینګ کړیو شویو کښی یا وروسته له دیوالونو سنګرونو څخه .

**تفسیر:** یعنی څرنګه چه د دی خلقو په زړونو کښی د مسلمانانو ویری او خوف ځای نیولی دی نو ځکه د جنګ په ډګر(میدان) کښی نشی جنګیدلی هو په کلیو او تینګو کلاؤ کښی سنګرونه نیولی او جګړی کولی شی یا که د دیوالونو او ونو او نورو شیانو تر شاؤ ئ ځانونه پټ کړی

نو جنګیدی شی . څمونږ یو مشر به ویل کله چه یورپیانو د مسلمانانو له توری څخه خپل ځانونه عاجز ولیدل نو راز راز (قسم قسم) اور خوروونکی وسلی او د جګړی اصول ئې ایجاد کړی خو سره له دی هم که کوم وقت د هغوی جګړه له مسلمانانو سره لاس په لاس ونښلی نو هغوی د څو شیبو دپاره هم د مسلمانانو په مخ کښی نشی ودریدلی او ګرده (توله) دنیا د قرآن دا معجزه پخپلو سترګو سره ګوری چه ﴿ لَا يُقَاتِلُونَكُمْ جَمِيعًا إِلَّا فِي قُرًى مُّحَصَّنَةٍ أَوْ مِن وَرَاءِ جُدُرٍ ﴾ د نورو هغو خلقو په نسبت څه ولیکلی شی چه د هغوی په نزد میرانه (بهادری) او توره دا ده چه د خپلو انګنونو (انګرونو) ورونه په خپلو ځانونو پسی تړی او په بامونو او بلیو باندی ختلی په تیږو (ګټو) او لوټو او خښتو او نورو شیانو سره ویشتل کوی .

# بَأْسُهُم بَيْنَهُمْ شَدِيدٌ

جنګ د دوی په منځ د دوی کښی ډیر سخت دی .

**تفسیر:** یعنی په جګړو کښی چه دوی ئې پخپلو منځونو کښی کوی ډیر تیز او ګرندی او سخت ښکاری لکه چه پخوا له اسلامه د اوس او خزرج د جنګونو تجربه څمونږ په مخ کښی پرته ده مګر د مسلمانانو په مقابله کښی د هغوی وینه وچه - توره پڅه - ژبه (چاړئ) او میرانه (بهادری) ورکه شی .

# تَحْسَبُهُمْ جَمِيعًا وَقُلُوبُهُمْ شَتَّىٰ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُونَ ﴿١٤﴾

ګمان به کوی ته په دوی چه سره یو دی او (حال دا چه) زړونه د دوی سره جلا جلا (جدا جدا) دی (په خیالاتو کښی)، دا (پریشانی د زړونو د دوی) په سبب د دی دی چه بیشکه دوی داسی یو قوم دی چه نه پوهیږی (نه چلوی عقل په خیر خپل) .

**تفسیر:** یعنی د مسلمانانو په مقابله کښی د هغو په ظاهری اتفاق او اتحاد مه غولیږئ د هغوی زړونه هیڅ کله سره غوند نه دی او بالکل جلا (جدا) دی هر یو د خپل غرض او غوښتنی مین - او د هر یوه فکر او خیال بیل دی . او د یوه خیال او چرت د بل د چرت او خیال سره مل نه دی . نو څکه د دوی په منځ کښی حقیقی اتحاد او یو جهتی هیڅری نه پیدا کیږی ؟ که دوی پوه ولری نو پوهیدل به چه دا نمائشی اتحاد او د ښودنی یووالی هیڅ نه پکاریږی اتحاد

هغه ته وایه شی چه د مؤمنینو او قانتینو په منځ کښی لیدل کیږی چه هغوی له ګردو (تولو) اغراضو او خواهشونو څخه ځانونه ژغوری (محفوظوی) او تولو یو ځای د الله تعالیٰ په رسی باندی منګولی لګولی دی . او د هغو ګردو (تولو) ژوندون او مرګ یواځی واحد او احد او صمد الله تعالیٰ لره دی .

كَمَثَلِ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ قَرِيْبًا ذَاقُوْا وَبَالَ اَمْرِهِمْ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿١٥﴾

مثال د دوی (په نه ایمان راوړو کښی) لکه مثل قصه د هغو کسانو دی چه ؤ پخوا له دوی نه په نژدی زمانه کښی چه (اهل د بدر دی) چه وڅکله هغوی وبال سزا د بدو چارو خپلو (په دنیا کښی په قتل او بند سره) او شته هغوی ته عذاب دردناک (په عقبا کښی) .

تفسیر: یعنی اوس په نژدی زمانی کښی د بنی قینقاع یهودانو د خپلی درغلی خیانت او غداری خوند څکلی دی ـ کله چه هغوی بد عهدی وکړه نو مسلمانانو له هغوی سره یوه مختصره جګړه ونښلوله او وروسته د یوه وړوکی جنګ څخه ئ هغوی د باندی وشړل . او له هغه ځنی په مخ کښی په قرینه ماضی کښی مکیانو هم د بدر په ورځ کښی خپله سزا وموندله همغسی د بنی نضیرو انجام هم وګورئ چه په دنیا کښی د مسلمانانو له لوری پخپل هیداد (انجام) او سزا ورسیدل او دوی ته د آخرت درد رسوونکی عذاب هم هغسی چه دوی ته تاکلی (مقرر) شوی دی هم وررسیږی .

كَمَثَلِ الشَّيْطٰنِ اِذْ قَالَ لِلْاِنْسَانِ اكْفُرْ ۚ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّنْكَ اِنِّيْٓ اَخَافُ اللّٰهَ رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦﴾ فَكَانَ عَاقِبَتَهُمَآ اَنَّهُمَا فِي النَّارِ خَالِدَيْنِ فِيْهَا ۗ وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٧﴾

(مثال د منافقانو په مخالفت د وعدی کښی) لکه مثل (قصه) د شیطان داسی ده کله چه وائ انسان ته چه کافر شه نو کله چه (انسان) کافر شی وائ (شیطان) زه بیزاره جلا (جدا) یم له تا څخه بیشکه زه ویریږم له الله چه رب

(پالونکی) د ټولو عالمیانو دی پس دی عاقبت انجام د دواړو (ګمراه کوونکی او ګمراه شوی) داسی چه بیشکه هغوی دواړه به وی په اور (د دوزخ) کښی تل به اوسیږی دوی (دواړه) په هغه (اور د دوزخ) کښی او هم دا (خلود د اور د دوزخ جزاء د ظالمانو (کافرانو) ده .

**تفسیر:** یعنی شیطان په اول کښی انسان ته کفر او معصیت تشویق او تحضیض ورکوی کله چه سړی د ده د اغواء په لومه او دام کښی ونښلی نو وائی چه زه له تا څخه جلا (جدا) او د تا له کاره بیخی بیزار یم زه خو له الله تعالیٰ ویریږم «دا وینا به هم د ریا او مکاری له مخی وی» نتیجه به داسی وی چه دی به هم د دوزخ خس او بوټی او دړی کیږی او د هغه د دوزخ لویدلو سبب به هم ګرځی . حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «شیطان به په آخرت کښی دا خبره وائی . او د بدر په ورځ کښی ئې هم د یوه کافر په شکل او بڼه نور خلق په جګړه کښی اچولی ؤ کله چه سترګی ئې پر پرښتو باندی ولګیدی نو ژر وتښتید. لکه چه د هغه بیان د (الانفال) په سورت کښی پخوا له دی څخه څمونږ د دغه پښتو تفسیر کښی تیر شوی دی هم دا مثال د منافقینو هم دی» هغه بنی نضیر ته د خپل حمایت او رفاقت یقین ورکړی ؤ او په دی چل سره ئې د مخالفت ډګر(میدان) ته را وویستل . کله چه هغوی په مصیبت سره اخته شول دی جلا (جدا) شو ـ او لری تری کیناست . ولی ایا هغه په دی دول (طریقه) د الله تعالیٰ له عذابه خلاصیدی شی ؟ هیڅ کله نه خلاصیږی او د دواړو د هستوګنی ځای دوزخ دی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلۡتَنظُرۡ نَفۡسٞ مَّا قَدَّمَتۡ لِغَدٖۖ

ای هغو کسانو چه ایمان ئې راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو ! تل ځان وساتئ له معاصیو) وویریږی له (عذابه د) الله او ښائې چه ودی ګوری هر نفس هغه شی ته چه وړومبی ئې لیږلی دی دپاره د صبا (قیامت).

**تفسیر:** یعنی ای مؤمنانو له الله تعالیٰ څخه وویریږئ ! او خپلو ځانونو ته د طاعاتو او عباداتو سرمایه ذخیره برابره کړئ او فکر وکړئ چه صبا به څه څه شیان در د مخه کیدونکی وی ؟ او د قیامت لویی ورځی دپاره مو څه ذخیره او ځیرمه کړی دی ؟ او څه شی مو د مخه ورلیږلی دی چه وروسته له مرګه هغه هلته در پکار شی ؟

وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ۝١٨

او وویریږئ له الله (په ځان ساتلو له معاصیو) بیشکه چه الله ښه خبردار دی په

هغو عملونو چه کوئ تاسو (نو جزا به پری درکړی) .

**تفسير:** يعنی ستاسی هيڅ يو کار له الله تعالیٰ څخه پټ نه دی . نو ځکه له هغه الله تعالیٰ څخه وويرېږئ ! او د تقویٰ او پرهيزګاری لاری غوره کړئ ! او له ګناهونو او معاصيو ځنی خپل ځانونه وژغوری (وساتی) !

وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ نَسُوا اللَّهَ فَأَنْسَاهُمْ أَنْفُسَهُمْ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ﴿١٩﴾

او مه کيږئ تاسی (ای مومنانو) په شان د هغو کسانو چه هير کړی دی هغوی الله بيا هير کړ الله په دوی حق د نفسونو د دوی دغه خلق هم دوی دی فاسقان نافرمانان (بهر وتونکی له فرمانه د الله نه) .

**تفسير:** يعنی هغه کسان چه د الله تعالیٰ حقوق ئې هير کړی دی او د هغه له ياده غافل شوی دی او د ده د اوامرو او نواهيو هيڅ پروا نه کوی نو الله تعالیٰ هير کړی دی په دوی باندی حق د نفسونو د دوی چه له راتلونکيو افتونو ځنی د ژغورنی (بچ کوونی) هيڅ يو فکر او انديښنه د دوی سره نشته . او په معاصيو او نافرمانيو کښی دوب تللی دی او په دائمی خساری او ابدی هلاکت کښی لويدلی دی او داسی کار نه کوی چه د دوی په حق کښی په واقع سره مفيد او نافع وی.

لَا يَسْتَوِي أَصْحَابُ النَّارِ وَأَصْحَابُ الْجَنَّةِ ۚ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ هُمُ الْفَائِزُونَ ﴿٢٠﴾

نه دی سره برابر (په نزد د الله) ياران ملګری د اور (چه هير کړی ئې دی الله) او ياران ملګری د جنت (چه ويريږی له الله) ياران ملګری د جنت هم دوی دی مراد موندونکی په مراد رسيدلی (په لقاء د الله او نعماؤ د جنت) .

**تفسير:** يعنی ښائې چه هر سړی خپل ځان د جنت د داخليدلو وړ(لائق) وګرځوی چه لاره ئې پرته (علاوه) د قرآن کريم د هداياتو او احکامو په مخامخ کښی له غاړی ايښودلو بل شی نه دی .

لَوْ أَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْآنَ عَلٰى جَبَلٍ لَّرَأَيْتَهُ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ ط

که نازل کړی وی مونږ (احکام د دغه) قرآن په یوه غره باندی (په مثل د انسان او فهم مو ورته ورکړی وی لکه چه انسان ته مو ورکړی دی) نو خامخا لیدلی به ؤ تا هغه (غر) ویریدونکی فرمان منونکی توتی توتی کیدونکی له ویری (د عذابه) د الله ،

**تفسیر:** یعنی د افسوس او د حسرت ځای به وی چه قرآن مجید د انسانانو پر زړونو باندی هیڅ یو اثر او اغیزه ونه کړی حال دا چه د قرآن شریف اثر او اغیزه دومره زبردسته او قوی ده چه که هغه پر غرونو غوندی یو کلک شی باندی هم راښکته شوی وی او په هغه کښی د پوهیدلو داسی یوه ماده چه په انسانانو کښی شته وی نو هغه به متکلم د عظمت په مقابل کښی ویریده او چاودیده او له داره به ئې توتی توتی کیده . ځما د الله ښځلی پلار په یوه اوږده منظومه کښی دا دری شعرونه راغلی دی .

محفل بدعت ځنی نغمی چه اوریدونکی دی
غوږ ئې کوڼ په سترګه ړوند زړګی ئې لړځیدونکی دی
راشه واوره دا روا سازونه اوازونه تل
لمر دی پر روښان او ګرد (تول) ستوری غورځیدونکی دی
ځوک چه شی بی ویری ډیر افسوس دی پر حالت د ده
غر ته ګوره ﴿ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا ﴾ کیدونکی دی

وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴿۲۱﴾

او دا مثالونه بیانوو اورو مونږ هغه خلقو ته (لپاره د دی) چه دوی فکر غور وکړی پکښی (فائده تری اخلی) .

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «یعنی د کافرانو زړونه ډیر سخت دی سره له دی چه د الله تعالیٰ کلام اوری خو بیا هم ایمان نه پری راوړی که غر د دی پاک کلام په مفهوم باندی وپوهیږی نو هغه به هم له ډیری ویری وشلیږی » .
**تنبیه:** دا خو د کلام د عظمت ذکر ؤ اوس په دغه راتلونکی آیت کښی د متکلم د عظمت او رفعت بیان دی .

هُوَ اللّٰهُ الَّذِیۡ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ عٰلِمُ الۡغَیۡبِ وَ الشَّهَادَةِ ۚ هُوَ الرَّحۡمٰنُ الرَّحِیۡمُ ﴿۲۲﴾ هُوَ اللّٰهُ الَّذِیۡ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلۡمَلِكُ الۡقُدُّوۡسُ السَّلٰمُ الۡمُؤۡمِنُ

دغه الله هغه ذات دی چه نشته بل هیڅ معبود برحق مګر خو هم دی (دی یوائحی) عالم دی په غیبو باندی او (عالم دی) په ښکاره ؤ باندی هم هغه (الله) دی خورا (ډیر) مهربان ډیر رحم والا دغه الله (هغه ذات دی) چه نشته بل هیڅ معبود برحق مګر خو هم دی دی (یوائحی) بادشاه دی ښه پاک دی (له تولو قبائحو څخه) سالم دی ( له ګردو (تولو) عیوبو ) څخه امان ورکوونکی دی .

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ اجل واعلیٰ شانه واعظم برهانه له ګردو (تولو) نقائصو او کمزوریو څخه پاک منزه دی او له تولو عیوبو او افاتو څخه سالم دی هیڅ یوه خرابی او نقصان نه د هغه دربار ته رسیدلی دی او نه به وررسیږی . د «مؤمن» ترجمه ئ په امان ورکوونکی سره کړی ده او د ځینو نورو مفسرینو په نزد د «مصدق» په معنی هم راغلی دی یعنی پخپل قول او فعل سره د خپلو پیغبرانو د اقوالو او ویناؤ تصدیق کوونکی دی . یا د مؤمنانو په ایمان باندی د تصدیق د مهر ثبت کوونکی دی .

الۡمُهَیۡمِنُ الۡعَزِیۡزُ الۡجَبَّارُ الۡمُتَکَبِّرُ ؕ سُبۡحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا یُشۡرِکُوۡنَ ﴿۲۳﴾

شاهد حافظ دی (په اعمالو د بندګانو) ښه زبردست دی د ویری خاوند دی د لوئ ښیښتن (خاوند) دی ، پاک دی ذات د الله له هغو شیانو چه (مشرکان ئ) ورسره شریکوی .

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ په ذات او صفاتو او افعالو کښی هیڅوک ورسره مل او شریک نه دی .

هُوَ اللّٰهُ الۡخَالِقُ الۡبَارِئُ الۡمُصَوِّرُ

دغه الله (هغه ذات دی) چه پیدا کوونکی دی راویستونکی دی (له عدم نه وجود ته) صورت ورکوونکی دی .

**تفسیر:** د (خالق) او د (باری) د فرق په نسبت مو د بنی اسرائیل په سورت کښی د دی آیت ﴿ وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ ۖ قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي ﴾ د تفاسیرو په ضمن کښی څه اشاری کړی دی .
ځمونږ دغه مبارک تفسیر بیا ولولئ ؟ المصور ـ صورت جوړوونکی لکه چه په نطفه باندی ئ د انسان تصویر جوړ کړی دی.

لَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ ۚ

هم دغه (الله) لره دی نومونه نیک عمده مخصوص.

**تفسیر:** یعنی هغه نومونه چه په اعلیٰ درجه په ښه والی او کمالاتو او صفاتو باندی دلالت کوی .

يُسَبِّحُ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ

په پاکی سره یادوی هغه (الله) لره هر هغه څه چه په آسمانونو کښی دی او (هر هغه څه چه په) ځمکه کښی دی .

**تفسیر:** یعنی د قال یا د حال په ژبه سره چه په هغه باندی مونږ او تاسی نه پوهیږو .

وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٢٤﴾

او هم دغه (الله) ښه غالب دی ښه حکمت والا دی

**تفسیر:** د الٰهیه د ګردو (ټولو) کمالاتو او صفاتو مرجع د دوو صفتونو په لوری دی چه «عزیز» د قدرت په کمال او (حکیم) د علم په کمال باندی دلالت کوی . او هر څومره کمالات چه دی په علم او قدرت پوری ئ په یو نه یو دول (طریقه) سره تړلی دی . په روایتونو کښی د (حشر) د سورت له دی دری آیتونو ﴿ هُوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ﴾ څخه نیولی د سورت تر آخره پوری دیر فضیلتونه راغلی دی . نو هر مسلمان ته ښائ چه سهار او ماښام ئ په لوستلو باندی ټینګوالی او مؤاظبت وکړی !.

**تمت سورة «الحشر» بمنه وکرمه فلله الحمد والمنة**

سورة الممتحنة مدنية وهی ثلث عشرة آية و فيها رکوعان
رقمها(۶۰) تسلسلهاحسب النزول (۹۱) نزلت بعد سورة الاحزاب

د «الممتحنة» سورت مدنی دی(۱۳) آیتونه او دوه رکوع لری په تلاوت کښی (۶۰) او په نزول کښی (۹۱) سورت دی وروسته د «الاحزاب» له سورت څخه نازل شوی دی

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ۝

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

څمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم په حدیبیې کښی له مکیانو سره روغه وفرمایله چه د هغی ذکر څمونږ د دغه پښتو تفسیر د (الفتح) په سورت کښی پخوا له دی نه شوی دی تر دوو کلونو پوری دا روغه قائمه وه بیا د کافرانو له لوری هغه ماته شوه نو دلته رسول الله صلی الله علیه وسلم د حربی له اصولو سره سم په پته خوله افواج تولول او د مکی معظمی د بری فتح دپاره ئې ترتیبات نیول د خبرو اترو او لیکونو په لیږلو باندی ئې ممانعت او بندشونه کیښوول چه تر څو د مکی معظمی کافران د دوی له دی تیاری څخه خبر نشی او هغوی هم د جګړی دپاره ځانونه تیار نه کړی او په دی ډول (طریقه) سره په حرم شریف کښی د جګړی مخه ونیوه شی یوه مسلمان چه حاطب رضی الله تعالیٰ عنه بن ابی بلتعه نومیده او د بدر له مهاجرینو څخه و مکیانو ته ئې یو لیک ورولیږه چه «د محمد صلی الله علیه وسلم لښکر پر تاسی باندی لکه د شپی تیاره یا د لوی سیلاو د اوبو پشان درتلونکی دی » دا خبره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د وحی په وسیله ورښکاره شوه دوی حضرت علی کرم الله وجهه او څو نورو اصحابو ته امر ورکړ چه یوه ښځه د مکی شریفی په لوری رهی (روانه) ده تاسی ورپسی ورشئ تاسی به له هغی سره په فلانی ځای کښی مخامخ کیږی له هغی سره یو لیک دی هغه ورځنی واخلئ! او له ځان سره ئې راوړئ دا اصحاب په تلوار رهی (روان) شول او هغه ښځه ئې پوره په همغه ځای کښی ومونده . هغی ښځی ډیر «**لیت او لعل**» او وړاندی او وروسته وکړ خو سره له هغه هم همغه لیک (خط) ئې وروسپاره چه د هغه له لوستلو څخه دا خبره ښکاره شوه چه د حاطب رضی الله تعالیٰ عنه بن ابی بلتعه له لوری د مکی معظمی د کافرانو په نامه لیکلی شوی دی او هغوی ته ئې د مسلمانانو د تعرض اطلاع ورلیږلی ده . څمونږ پیغمبر حاطب رضی الله تعالیٰ عنه راوباله او تری وئې پوښتل چه دا څرنګه یو حرکت دی ؟ دی وویل یا رسول الله نه زه کافر یم او نه می له اسلامه مخ اړولی دی . ربښتیا خبره خو دا ده چه ځما کور او کهول په مکه معظمه کښی دی او هلته د هغوی ساتونکی او پالونکی هیڅوک نشته نو می وغوښتل چه پر کافرانو باندی خپل یو احسان واړوم تر څو هغوی د هغه په معاوضه کښی ځما له اهل او عیال سره څه غرض ونه لری بلکه له هغوی سره

څه ښیګڼې (ښه) هم وکړي . زه پوهیږم چه له دې څخه ماته ډیره ګټه (فائده) رارسیږي خو اسلام او مسلمانانو ته له هغه ځنې هیڅ یو ضرر نه رسیږي هغه د فتح او نصرت وعدې چه تاسې ته د الله تعالیٰ له لورې شوی دی هغه په یقیني ډول (طریقه) سره پای (آخر) ته رسیدونکې دی او د هغو مخه هیڅوک نشي نیولی لکه چه د ده د هغه خط په منځ کښې هم دا مضمون لیکلی شوی و. قسم په الله که رسول الله صلی الله علیه وسلم یواځې هم پر تاسې باندې حمله وکړي نو الله تعالیٰ به ورته مدد ورکوي او هغه وعدې چه له هغه سره شوې دي خامخا پوره کیدونکې دي.
بلاشبهه د حاطب رضي الله تعالیٰ عنه څخه دا غته خطائ شوې ده خو رحمة للعالمین وفرمایل «**لا تقولوا له الا خیراً** مه وایئ ورته هیڅ شې پرته (علاوه) له خیره او وی فرمایل «چه حاطب د بدر د اصحابو څخه دی او تاسې ته نه دی معلوم چه الله تعالیٰ د بدر د اصحابو ګرد (تول) ګناهونه ښبلي دي ». د دې سورت زیاتره برخه هم دې قصې لره نیوونکې ده لکه چه الله اجل واعلیٰ شانه واعظم برهانه داسې فرمائ چه

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمۡ أَوۡلِيَآءَ تُلۡقُونَ إِلَيۡهِم بِٱلۡمَوَدَّةِ وَقَدۡ كَفَرُواْ بِمَا جَآءَكُم مِّنَ ٱلۡحَقِّ

ای هغو کسانو چه ایمان ئ راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو) ! مه نیسئ تاسې دښمنان ځما او دښمنان خپل دوستان په دغه حال کښې چه غورځوئ لیږئ تاسې خبرونه هغوی ته په سبب د دوستې سره (په منځ ستاسې او د دوی کښې) حال دا چه په تحقیق کافران شوي دي هغوی په هغه شي چه راغلی دی تاسې ته له حق (دین او قرآن) څخه .

**تفسیر:** یعنې د مکې کافران هم د الله جل جلاله دښمنان دي او هم ستاسې نو له هغوی سره دوستي مه کوئ!. او هغوی ته دوستانه پیغامونه لیږل مسلمانانو لره ښه نه دي. او په تحقیق کافران شوي دي هغوی په هغه څه چه راغلي دي تاسې ته له حق دین څخه نو د دې لامله (له وجې) د الله تعالیٰ دښمنان شول .

يُخۡرِجُونَ ٱلرَّسُولَ وَإِيَّاكُمۡ أَن تُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ رَبِّكُمۡ

چه وباسي دوی رسول (د الله) او هم تاسې (له خپل وطن مکې څخه ځکه) چه ایمان راوړی دی تاسې په الله چه رب ستاسې دی (پس مه نیسئ دوی په دوستي سره) .

**تفسير:** يعني پيغمبر ته او تاسي ته ئې څنګه سخت ربړونه (تكليفونه) او زحمتونه دررسول او تاسي ئې د خپل هيواد او وطن په پرېښوولو باندې اړ (مجبور) كړئ يوازې په هم دې خبره سره چه تاسې ولې د يوه الله تعالىٰ چه ستاسې او د ګردو (ټولو) مخلوقاتو پروردګار دى عبادت كوئ ؟ نو له دې څخه به لويه دښمني او عداوت څه وي ؟ د تعجب ځاى دى چه تاسې له داسې سړيو سره دوستي كوئ ؟ او د خپلوى لاسونه وروړاندې كوئ ؟ .

اِنْ كُنْتُمْ خَرَجْتُمْ جِهَادًا فِىْ سَبِيْلِىْ وَ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِىْ

كه چيرې يئ تاسې چه راوتلي ئې تاسې (له اوطانو خپلو) دپاره د جهاد جنګ په لاره ځما كښې او دپاره د رضاء خوښې غوښتلو ځما (پس مه نيسئ دوى په دوستي سره)

**تفسير:** يعني كه ستاسې له كوره وتل ځما د خوښې لپاره او ځما په لاره كښې د جهاد دپاره وي او خاص ځما د رضاء دپاره تاسې نور د خپلو ځانونو دښمنان كوئ نو بيا په هغې دښمنې كښې د دوستي ارتباط د څه دپاره دى ؟ ايا د هغو كسانو په ناراضي چه تاسې د الله تعالىٰ رضاء ګټلې وه اوس غواړئ چه هغوى له خپلو ځانونو څخني رضاء او خوښ او الله تعالىٰ ناراض كړئ ! (العياذ بالله)

تُسِرُّوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ ۖ وَاَنَا اَعْلَمُ بِمَآ اَخْفَيْتُمْ وَمَآ اَعْلَنْتُمْ ؕ

چه په پټه (خبرې) ليږئ تاسې هغوى ته په (سبب د) دوستي سره او زه ښه عالم يم په هغه څه چه پټوئ تاسې (له مراسلاتو) او په هغه څه چه ښكاروئ تاسې (له معاذيرو) .

**تفسير:** يعني كه يو سړى وغواړي چه يو كار له ګردو (ټولو) خلقو او نړى والو (اهل جهان) څخه په پټه اجرا كړي نو ايا هغه له الله تعالىٰ څخه هم پټولى شي ؟ وګورئ چه حاطب رضى الله تعالىٰ عنه څومره زيار (محنت) وكړ او كوښښ ئې وكړ چه د خپل ليك (خط) اطلاع هيچا ته ورنه كړي خو الله تعالىٰ له هغه څخه خپل رسول خبردار كړ او دغه پټه خبره پخوا له وقته ورڅرګنده (ښكاره) شوه !.

وَمَنْ يَّفْعَلْهُ مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِيْلِ ①

او هر څوک چه وکړی دغه (کار) له تاسی څخه نو په تحقیق ورکه کړی ئې ده سمه صافه لاره .

**تفسیر:** یعنی که سره له مسلمانی داسی کار وکړی او داسی ئې وګڼی چه دی به د هغه په پټو ساتلو کښی بری ومومی نو سخته غلطی او زیات تیرواته کوی.

إِن يَثْقَفُوكُمْ يَكُونُوا لَكُمْ أَعْدَآءً وَيَبْسُطُوٓا إِلَيْكُمْ أَيْدِيَهُمْ وَأَلْسِنَتَهُم بِالسُّوٓءِ وَوَدُّوا لَوْ تَكْفُرُونَ ﴿٢﴾

که چیری ظفر بری ومومی (کفار) په تاسی باندی (نو) شی به دوی تاسی لره دښمنان او اوږده به کړی تاسی لاسونه خپل (په وهلو او وژلو د تاسی) او (اوږدی به کړی) ژبی خپلی په بدی (ویلو د تاسی) سره او خوښوی به دوی (دغه) چه کافران شئ تاسی (لکه چه دوی دی) .

**تفسیر:** یعنی له دی کافرانو څخه په موجوده حالت کښی څه هیله (امید) او اسره مه لرئ! که څه هم تاسی زیاته پیرزوینه او رواداری پر هغوی باندی وکړئ او د دوستی اظهار وکړی هغوی هیڅ کله د مسلمانانو خیر غوښتونکی نشی کیدی او سره له دی انتهای روادار‌یو که د هغوی لاسونه پر تاسی باندی بر شی نو له هیڅ راز (قسم) خرابی او دښمنی څخنی خپل ځانونه نه منع کوی. په ژبو او لاسو سره هر دول (طریقه) ضررونه او ایذاوی تاسی ته دررسوی . او داسی غواړی هم هغسی چه هغوی له صداقته منکران دی تاسی هم منکران کړی نو ایا داسی شریران او بد باطنان د دی خبری وړ (لائق) دی چه هغوی ته هسی پیغامونه ورولیږل شی ؟ .

لَن تَنفَعَكُمْ أَرْحَامُكُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُكُمْ ۚ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ يَفْصِلُ بَيْنَكُمْ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٣﴾

له سره به نفع در ونه رسوی تاسی ته (که کافران شئ) خپلوی (د خپلوانو) ستاسی او نه اولاد ستاسی په ورځی د قیامت کښی فیصله به وکړی (الله) په منځ ستاسی کښی او الله په هغو عملونو چه کوئ تاسی ښه لیدونکی دی (نو

جزا به ئې درکړي) .

**تفسير:** حاطب رضی الله تعالیٰ عنه هغه خط د خپل اهل او عيال دپاره ليکلی ؤ نو په دی باندی داسی تنبيه فرمائ چه اولاد او خپلوان د قيامت په ورځ کښی هيڅ نه په کاريږی الله تعالیٰ د هر يوه سړی اعمال تر ذری ذری پوری هم ګوری او سم له هغه سره فيصله او پريکړه کوی د الله تعالیٰ دا فيصله هيڅ يو ځوی ـ لمسی ـ کروسی خپل ـ خپلوان او عزيز نشی ماتولی نو بيا دا کومه عقلمندی ده چه يو مسلمان د خپل اهل او عيال دپاره الله تعالیٰ له خپل ځان څخه نارضاء کړی په ياد ئې ولرئ چه له هر شی څخه د الله تعالیٰ رضامندی او خوښی وړاندی ده که دی له مونږ څخه راضی وی نو د هغه په فضل او کرم سره ګرد (تول) کارونه ښه کيږی او که الله تعالیٰ نارضاء او خفه شی نو هيڅ شی نه په کاريږی .

قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِىٓ إِبْرَٰهِيمَ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ إِذْ قَالُوا۟ لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَءَٰٓؤُا۟ مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ ٱلْعَدَٰوَةُ وَٱلْبَغْضَآءُ أَبَدًا حَتَّىٰ تُؤْمِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَحْدَهُۥٓ

په تحقيق شته تاسی لره (ای مؤمنانو) طريقه ښه (چه اقتداء پسی کولی شئ) په (قول او فعل) د ابراهيم کښی او په (قول ـ فعل د) هغه چا کښی چه ده سره ؤ (له مؤمنانو) کله چه ووېل (دغه ابرهيم او اتباعو ئې مشرکانو د) قوم د دوی ته چه بيشکه مونږ جلا (جدا) بيزاره يو له تاسی څخه او (بيزاره يو) له هغه څيزه چه عبادت ئې کوئ تاسی بې له الله منکران شوی يو مونږ (په باطل دين) ستاسی باندی او ښکاره شوی دی په منځ ځمونږ او ستاسی کښی عداوت دښمنی او بغض حسد ابدی هميشه تر هغه پوری چه ايمان راوړی په الله باندی يواځی (چه واحد لا شريک دی).

**تفسير:** يعنی هغه کسان چه سره له اسلامه د ابراهيم عليه وعلیٰ نبينا الصلوٰة السلام سره ملګری شوی دی هر يوه په خپلو وقت کښی په خپلو فعلونو او قولونو سره له هغو کفارو ځنی د بيزاری او بيلتون اعلان کړی دی او ابراهيم عليه السلام سره له نورو مؤمنانو اتباعو خپلو ووېل هغو مشرکانو د قوم خپل ته چه په تحقيق سره مونږ بيزاره يو له تاسی څخه او بيزاره يو له هغه شی

څخه چه عبادت ئې كوئ تاسي بې له الله چه بتان دي او كافر شوي يو مونږ په دين يا په معبود ستاسو باندي يعني تاسي اى كفارو ځرنګه چه له الله تعالىٰ څخه منكران يې او د الله تعالىٰ د احكامو پروا نه كوئ نو مونږ هم ستاسي له طريقې څخه منكران يو او د يوې ذرې په ميچ هم ستاسي فكر او پروا نه كوو او ښكاره شوي دي په منځ ځمونږ او ستاسي كښې عداوت دښمني او بغض كينه هميشه تل تر هغه پورې چه ايمان راوړئ تاسي په الله تعالىٰ باندي يواځې يعني دا دښمني به هلته پاى (آخر) ته رسيږي چه تاسي شرك او كفر پريږدئ او د همغه يوه مالك الملك والملكوت اكرم شانه واعظم برهانه هسي بندګان او چوپړان شئ لكه چه مونږ ئې هم بندګان او تابعان يو.

---

إِلَّا قَوْلَ إِبْرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ لَأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ وَمَآ أَمْلِكُ لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن شَىْءٍ

---

مګر خو (اقتداء مه كوئ د) يوې خبرې د ابراهيم (چه ويلې ئې ؤ پخوا له امتناعه) پلار خپل ته (داسي) چه خامخا زه ښښنه غواړم هرومرو (خامخا) د تا دپاره او مالك نه يم زه تا لره له عذابه د الله د هيڅ څيز ،

---

**تفسير:** يعني يواځې دعا كولى شم د كومې ګټې او نقصان مالك نه يم . الله تعالىٰ هر څه چه وكړي كولى ئې شي او د هغه مخه هيڅوك نشي نيولى . حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليكي «يعني حضرت ابراهيم عليه السلام هجرت وكړ او بيا ئې خپل تبر ته مخ ونه ګرځاؤ نو ايا تاسي به هم همغسي كوئ ؟ يو خو ابرهيم عليه السلام كله چه دا خبره ورمعلومه نه وه خپل پلار ته ئې دعا وكړه او هر كله چه دا خبره ورمعلومه شوه چه مشركان له غفران څخه محروم دي نو چپ شو. اوس چه هغه خبره تاسي ته ښكاره شوه نو څكه د كافرانو ښښنه مه غواړئ .
**تنبيه:** د ابراهيم عليه السلام د استغفار قصه دى د خپل پلار دپاره د (براءة) په سورت كښې د دي آيت ﴿ وَمَا كَانَ ٱسْتِغْفَارُ إِبْرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَن مَّوْعِدَةٍ وَعَدَهَآ إِيَّاهُ ﴾ الآية - په تفاسيرو كښې وكتله شي او ويل ابراهيم عليه السلام او اتباع ئې داسي چه:

---

رَّبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَإِلَيْكَ أَنَبْنَا وَإِلَيْكَ ٱلْمَصِيرُ ﴿٤﴾

---

اى ربه ځمونږ (خاص) په تا باندي توكل كړى دى مونږ او (خاص تاته رجوع كړې ده مونږ او (خاص) تاته بيرته ګرځيدل د ګردو (تولو) دى په آخرت كښې دپاره د جزاء .)

**تفسیر:** یعنی گرد (تول) مو پری ښوول او تاته مو هیله (امید) وکړه او د خپل له قوم او له تبر څخه مو پریکړه وکړه او له تا سره مو خپل علاقه ونښلوله او تاته مو رجوع وکړه او په دی باندی ښه پوهیږو چه د گردو (تولو) ورتگ ستا په لوری دی .

رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَاغْفِرْ لَنَا رَبَّنَا ۚ إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٥﴾

(وویل ابراهیم او اتباعو د ده) ای ربه ځمونږ مه گرځوه ته مونږه فتنه ځای د ازمویلو هغو کسانو لره چه کافران شوی دی او ښښنه وکړه مونږ لره ای ربه ځمونږ بیشکه هم ته ئې ښه غالب قوی (په انفاذ د احکامو) ښه حکمت والا (چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی).

**تفسیر:** یعنی مونږ د کافرانو دپاره فتنه او د ازمویښت محل د مشق تخته مه گرځوه ! او مونږ پخپل فضل او کرم سره په دغسی حالت کښی وساته چه د هغو له لیدلو څخه کافران خوښ نشی او پر اسلام او مسلمانانو باندی د تمسخر او استهزا غږونه وکری او ځمونږ په مقابل کښی په خپل حقانیت باندی استدلال وکری . بیشکه هم ته ئې ښه غالب قوی په انفاذ د احکامو ښه حکمت والا چه هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی یعنی ځمونږ تقصیرات او کوتاهی وبښه او را معاف ئې کره . ستا د زبردست قوت او حکمت څخه هم دا هیله (امید) او توقع ده چه خپل وفا لرونکی بندگان د دښمنانو په مقابل کښی مقهور او مغلوب مه کړی اوس دپاره د ازیاد د حرص په اقتداء د ابراهیم علیه السلام کښی الله اکرم شانه واعظم برهانه داسی ارشاد فرمائې:

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْهِمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ وَالْيَوْمَ الْاٰخِرَ ۚ وَمَنْ يَّتَوَلَّ فَإِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿٦﴾ ع

خامخا په تحقیق ده تاسی لره (ای مؤمنانو) په دغو (خبرو د ابراهیم او اتباعو د ده) کښی طریقه حسنه ښه (چه اقتداء پسی کوی او دا اقتداء ده) هغه چا لره چه وی چه امید لری (د ثواب) د الله او ویریږی د (جزاء د) ورځی آخری (د قیامت)، او هر هغه څوک چه مخ وگرځوی (له احکام الله)

نو بیشکه الله همغه دی غني بی پروا ښه ستایلی شوی (په محامدو)

**تفسیر:** یعني تاسی مسلمانانو ته یا په بل لفظ هغو خلقو ته چه د الله د لیدلو او د آخرت د قائمیدلو هیله (امید) لري د ابرهیم علیه السلام او د ده د ملګرو حسنه اسوه او نیکی طریقه غوره کول په کار دی . که څه هم توله دنیا تاسی ته متعصب او جاهل وواېځ تاسی خپل مخونه د هغی لاری څخه مه اړوئ ! چه د دنیا هغه لوی موحد هغه پخپل تګ او طرز عمل سره قائم کړی دی . د مستقبل وقت ابدی کامیابی او بری د هم دی لاری په تللو سره په لاس درتلی شي . که چپ (مخالف) له دی نه لاړ شئ او د الله تعالیٰ له دښمنانو سره خپله دوستی ټینګه کړئ نو تاسی به پخپله نقصان او زیان مومئ. ځکه چه الله تعالیٰ د هیچا د دوستی او دښمنی پروا نه لري . هغه پخپل ذات سره د ګردو (تولو) کمالاتو او هر راز (قسم) ښیګڼو (فائدو) مالک او څیښتن (خاوند) دی او هیڅ ضرر ورته نه رسیږی .

عَسَى اللَّهُ أَن يَجْعَلَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ الَّذِينَ عَادَيْتُم مِّنْهُم مَّوَدَّةً ۚ وَاللَّهُ قَدِيرٌ ۚ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ⑦

ښائیږی چه الله پیدا کړی په منځ ستاسی کښی او په منځ د هغو کافرانو چه دښمنی لری تاسی له هغوی سره دوستی او الله (په هر شي چه اراده وفرمائ) ښه قادر دی (چه څیني ئې دغه دښمنی په دوستی سره بدلول دی) او الله ښه مغفرت کوونکی دی ډیر رحم والا دی

**تفسیر:** یعني د الله تعالیٰ د قدرت او رحمت څخه بعید نه دی چه د نن ورځی ډیر کلک کافر صبا ښه پوخ مسلمان وګرځوی . او په دا ډول (طریقه) ستاسی او د هغوی په منځ کښی د دوستی تعلقات قائم شي . لکه چه د مکی معظمی په فتحه کښی هم داسی وشوه نژدی ګرد (تول) مکیان مسلمانان شول او هغه کسان چه پرون به ئې یو د بل په مخ توری وښکلی نن یو پر بل باندی ځان قربانوی . په دی آیت کښی مسلمانانو ته اطمینان او تسلی ورکړی شوی ده چه د مکیانو په مقابل کښی د مسلمانانو دا د خپلوی شلول او ترک موالات او جهاد د څو ورځو له مخی موقتی دی . بیا به هغه ته څه اړه (حاجت) او ضرورت نه پاتی کیږی . ښائ چه په موجوده حالت کښی تاسی په همغه ترک د موالاتو باندی ټینګ اوسئ ! او له چا ځنی چه په دی لاره کښی څه بی اعتدالی شوی وی الله تعالیٰ د ده د هغی خطا ښښونکی دی ځکه چه همغه لوی ښښونکی دی .

لَا يَنۡهٰىكُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِيۡنَ لَمۡ يُقَاتِلُوۡكُمۡ فِى الدِّيۡنِ وَلَمۡ يُخۡرِجُوۡكُمۡ
مِّنۡ دِيَارِكُمۡ اَنۡ تَبَرُّوۡهُمۡ وَتُقۡسِطُوۡۤا اِلَيۡهِمۡ‌ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ
الۡمُقۡسِطِيۡنَ ۸

نه منع کوی تاسی (ای مومنانو) الله له (دوستی د) هغو کسانو چه نه دی کړی جنګ له تاسو سره په (کار د) دین کښی او نه ئې ایستلی تاسی له کورونو خپلو څخه (له دی نه) چه نیکی کوئ تاسی له دوی سره او چه عدل او انصاف کوئ تاسی له هغوی سره بیشکه چه الله خوښوی دوست لری انصاف عدل کوونکی .

**تفسیر:** یعنی په مکه معظمه کښی داسی خلق هم شته چه دوی پخپله مسلمانان شوی نه ؤ خو له مسلمانانو سره ئې څه ضد او مخالفت هم نه کاوه او نه به ئې د دین په چارو کښی له هغو سره جګړی کول او نه به ئې ربړونه (تکلیفونه) ورپیښول او نه به ئې د هغوی په ایستلو کښی د ظالمانو مرستی (مدد) کولی . له داسی کافرانو سره له ښیګڼی (نیکی) او ښه سلوک کولو څخه اسلام هیڅ ممانعت نه کوی کله چه هغوی ستاسی سره عدل او انصاف ـ نرمی او رواداری کوی نو د انصاف تقاضا هم دا ده چه تاسی هم له هغوی سره ښه تینګ او مناسب سلوک وکړئ ! او دنیا ته ئې وروښیی چه د اسلامی اخلاقو معیار څومره هسک (اوچت) دی ؟ دا د اسلام تعلیم نه دی که د کافرانو یو قوم له مسلمانانو سره جنګ کوی نو د ګردو (تولو) کفارو سره بلا تمیيز جنګ ونښلوو او له تولو سره د توری په څوکی خبری وکړو که مونږ داسی وکړو نو د حکمت او انصاف له اصول څخه مو پرته (علاوه) او خلاف کار کړی دی . دا ضروری خبره ده چه د ښځو او نارینه ؤ او وړوکیو سپین ږیرو ځلمیو او معاندو او مسالمو په منځ کښی فرق او توپیر (تفاوت) سره وکړو او د هغو حالاتو په اعتبار مراعات وکړو چه د هغو لړ څه تفصیل د (ال عمران) او د(المائده) د سورتونو په تفاسیرو کښی پخوا لیکلی شوی دی .

اِنَّمَا يَنۡهٰىكُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِيۡنَ قَاتَلُوۡكُمۡ فِى الدِّيۡنِ وَاَخۡرَجُوۡكُمۡ مِّنۡ
دِيَارِكُمۡ وَظٰهَرُوۡا عَلٰٓى اِخۡرَاجِكُمۡ اَنۡ تَوَلَّوۡهُمۡ‌ۚ وَمَنۡ يَّتَوَلَّهُمۡ
فَاُولٰٓـئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوۡنَ ۹

بیشکه هم دا خبره ده چه منع کوی تاسی الله له (دوستی د) هغو کسانو څخه چه جنګ ئې کړی دی له تاسی سره په (کار د) دین کښې او چه ایستلی ئې یئ تاسی له کورونو د تاسی څخه او کومک مرستی (مدد) ئې کړی دی له دښمنانو ستاسی سره په ایستلو ستاسی کښې له دی څخه چه دوستی کوئ تاسی له هغوی سره او هر هغه چه دوستی کوی له هغوی سره دغه (خلق) هم دوی دی ظالمان ګنهګاران .

**تفسیر:** یعنی له هسی ظالمانو سره دوستانه تعلقات قائمول بیشکه سخت ظلم او ګناه ده . (ربط) تر دی ځای پوری د کفارو د دوو فریقو تولیو (معاند ـ مسالم) سره د معاملی ذکر ؤ وروسته له دی نه دا راښیی چه له هغو ښځو سره څه معامله وکړو چه له (دار الحرب) څخه (دار الاسلام) ته راشی ؟ یا په (دار الحرب) کښې هستوګنه ولری ؟ خبره دا ده چه د حدیبیې په روغه کښې مکی والو داسی تاکلی (مقرر کړی) ؤ چه ځمونږ هغه سړی چه د مسلمانانو په لوری راشی ښائی چه هغه بیرته ولیږلی شی لکه ځمونږ پیغمبر دا خبره منلی هم وه او د هغه په اثر څو سړی چه مدینی منوری ته راغلی ؤ بیرته مکی معظمی ته ولیږل شول . وروسته له هغه څخه څو ښځی هم راغلی . که دا ښځی هم بیرته لیږلی کیدی نو د کافر نارینه په کور کښې د مسلمانی ښځی هستوګنه له اسلامی غیرته لری ښکاریدل او د هغو ناسته ملاسته سره حرامه وه نو په دی باندی دا وروستی آیتونه رانازل شول . معلومیږی چه وروسته له دی نه د ښځو په بیرته لیږلو کښې کافرانو اصرار ونه کړ او که نه هغه روغه به روغه نه پاتی کیده .

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِذَا جَآءَكُمُ ٱلْمُؤْمِنَٰتُ مُهَٰجِرَٰتٍ فَٱمْتَحِنُوهُنَّ ۖ ٱللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَٰنِهِنَّ ۖ

ای هغو کسانو چه ایمان ئې راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو) کله چه راشی تاسی ته مؤمنانی (ښځی) هجرت کوونکی وطن پریښووونکی نو وائې ازمویئ تاسی هغوی الله ته ښه معلوم دی ایمان د دوی .

**تفسیر:** یعنی د زړونو احوال الله تعالیٰ ته ښه معلوم دی خو په ښکاره ډول (طریقه) سره تاسو د هغو ښځو تفتیش او تحقیق په ښه ډول (طریقه) سره وکړئ ! چه ایا په رښتیا سره مسلمانانی دی ؟ ایا په رښتیا د مسلمانی لامله (له وجی) دوی هجرت کړی دی او خپل وطن ئې پری ایښی دلته راغلی دی ؟ ایا کومی دنیوی یا نفسانی غوښتنی د دوی هجرت او راتګ سبب نه دی شوی ؟ په ځینو راویتونو کښې راغلی دی چه حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه به د دوی امتحان

اخیستلو او ازموینه ئې کوله او د حضرت نبوی له لوری به ئې د هغوی بیعت اخیست کله به
پخپله رسول اکرم صلی الله تعالیٰ علیه وسلم هم د دوی بیعت مانه چه وروسته په
﴿ یٰٓاَیُّهَا النَّبِیُّ اِذَا جَآءَکَ الْمُؤْمِنٰتُ یُبَایِعْنَکَ ﴾ الآیة - کښی مذکور دی .

فَاِنْ عَلِمْتُمُوْهُنَّ مُؤْمِنٰتٍ فَلَا تَرْجِعُوْهُنَّ اِلَى الْكُفَّارِ ؕ لَا هُنَّ حِلٌّ
لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّوْنَ لَهُنَّ ؕ وَاٰتُوْهُمْ مَّآ اَنْفَقُوْا ؕ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ
اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ اِذَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ ؕ

نو که وپیژنئ تاسی دوی (په قسم سره) مومنانی نو بیرته مه لیږئ هغوی
طرف د کفارو ته نه دی دغه (مؤمنانی ښځی) حلالی هغو (کفارو سړیو) لره
او نه دی هغه (کافران) حلال دی (ښځو مؤمنانو) لره او ورکړئ تاسی (هغو
کافرانو) ته (چه میړونه (خاوندان) د هغو ښځو دی) هغه څه چه لګولی ئې
دی (له مهره) او نشته هیڅ ګناه پر تاسی باندی چه نکاح وتړئ تاسی له دی
ښځو سره په شرط د دی کله چه ورکړئ تاسی هغو (ښځو) ته مهرونه د دوی

**تفسیر:** داسی حکم وشو که له زوجینو څخه یو مسلمان او بل مشرک وی نو د دارینو په اختلاف
سره د نکاح تعلقات قائم نه پاتی کیږی که د کوم کافر ښځه مسلمانه شوی وی او دار الاسلام
ته راشی هر هغه مسلمان چه د دی نکاح تړی د ده په غاړه ده چه هومره مهر چه هغه کافر په
دی ښځی ورکړی دی هومره بیرته ورکړی . او اوس د دی ښځی مهر هر څه چه تاکلی (مقرر)
شوی وی هغه جلا (جدا) دی ښځی ته وروسپاری نو وروسته له دی څخه د هغی ښځی سره نکاح
تړلی شی

وَلَا تُمْسِكُوْا بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ وَسْـَٔلُوْا مَآ اَنْفَقْتُمْ وَلْيَسْـَٔلُوْا مَآ
اَنْفَقُوْا ؕ ذٰلِكُمْ حُكْمُ اللّٰهِ ؕ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝١٠

او منګولی مه نښلوئ په عصمتونو د ښځو کافرانو (او مه ئې ساتئ په نکاح
خپله کښی) او وغواړی تاسی هغه څه چه خرڅ کړی دی تاسی (پر دغو
کافرانو) او ودی غواړی (دغه کفار هم) هغه څه چی خرڅ کړی وی هغوی

(له مهرونو پر دغو مهاجرانو) دا (مذکوره احکام) حکم د الله دی حکم کوی (الله په دغه سره) ستاسی کښی او الله ښه علم والا دی ښه حکمت والا دی.

**تفسیر:** د ړومبی حکم په مقابل کښی وروستنی حکم داسی شو د هغه مسلمان سړی ښځه چه لا کافره پاتی وی دغه مسلمان دی هغه ښځه پریږدی ! بیا هر کافر چه له هغی سره نکاح وتړی د دی مسلمان لګولی شوی مهر به بیرته وررسوی په هم دی ډول (طریقه) هر یو له دواړو فریقینو څخه دی یو له بل ځنی خپل حق وغواړی کله چه دا حکم راښکته شو نو مسلمانان دی خبری ته تیار شول چه هم ئ ورکړی او هم به ئ واخلی خو کافرانو ورکول ونه منل نو ځکه دا راتلونکی آیت رانازل شو .

وَإِن فَاتَكُمْ شَيْءٌ مِّنْ أَزْوَاجِكُمْ إِلَى الْكُفَّارِ فَعَاقَبْتُمْ فَآتُوا الَّذِينَ ذَهَبَتْ أَزْوَاجُهُم مِّثْلَ مَا أَنفَقُوا ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي أَنتُم بِهِ مُؤْمِنُونَ ﴿١١﴾

او که چیری فوت شی له تاسو نه (ای مؤمنانو) یو شی له ښځو ستاسی په طرف د کفارو پس غزا مو وکړه (او غنیمت مو واخیست تاسی په غزا کښی) پس ورکړئ تاسی هغو کسانو ته چه تللی وی ښځی د هغوی (کفارو ته) په مثل د هغه (مهر) چه ورکړی دی دوی (هغو ښځو لره) او ویریږئ تاسی له الله هغه چه تاسو پر هغو باندی ایمان راوړونکی یی ، (شیخ الهند رحمة الله علیه د دی آیت ترجمه داسی کړی ده که لاړی شی له لاسو ستاسی څه ښځی د کافرانو په طرف بیا ستاسو لاس بر شی یا وار مو راشی الخ).

**تفسیر:** یعنی که د کوم مسلمان ښځه مرتده او دارالحرب ته لاړه شی او کافر د هغه خرڅ بیرته نه ورکوی نو که د کوم کافر ښځه د مسلمانانو کره راشی د هغه هر څومره خرڅ چه کیږی ښائ د هغه کافر په ځای دی مسلمان ته ورکړی چه ښځه ئ د کافر کره تللی ده او حق ئ سوځیدلی دی . هو ! دومره ده که دغه مسلمان د حق له ورکولو څخه څه شی بیرته پاتی شی هغه به همغه کافر ته وررسوی ! ځینو عالمانو لیکلی دی که کوم مسلمان د کافر خرڅ نشی ورته رسولی نو هغه دی د مسلمانانو په بیت المال کښی ور تحویل کړی . الله اکبر ! دا څومره د عدل ـ انصاف تعلیم دی ! خو په دی باندی عمل کوونکی به همغه څوک وی چه د هغه په زړه کښی د الله تعالیٰ ویره وی او په هغه باندی پوره او کامل ایمان ولری ! .

**تنبیه:** د ﴿فَعَاقَبْتُمْ﴾ ترجمه محقق مترجم په دوه ډول (طریقه) سره فرمایلی دی «بیا ستاسی لاس بر شی» او «ستاسی وار راشی» مونږ د دوهمی ترجمی په لحاظ سره د دی مطلب تقریر دلته

ولیکه . له پرومبنی ترجمی سره سم ځینی مفسرینو ویلی دی چه له دی څخه د غنیمت د مال حاصلیدل مراد دی یعنی د غنیمت له مال څخه د دی مسلمان خرڅ شوی مال ورته ورسپارلی شی والله تعالیٰ اعلم .

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِذَا جَآءَكَ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتُ يُبَايِعۡنَكَ عَلَىٰٓ أَن لَّا يُشۡرِكۡنَ بِٱللَّهِ شَيۡـٔٗا وَلَا يَسۡرِقۡنَ وَلَا يَزۡنِينَ وَلَا يَقۡتُلۡنَ أَوۡلَٰدَهُنَّ

ای نبی (ای محمدا پیغمبره!) کله چه راشی تاته مؤمنانی ښځی چه بیعت کوی له تا سره پر دی شرط چه نه به شریکوی دوی له الله سره هیڅ شی او نه به کوی غلا دوی او نه به کوی زناء دوی او نه به وژنی دوی اولاد خپل

**تفسیر:** یعنی ای محمده بیعت واخله له ښځو څخه په خبره چه نه به شریکوی دوی له الله تعالیٰ سره هیڅ څیز او غلا به نه کوی او زناء به نه کوی او نه به وژنی اولاد خپل لکه چه د جاهلیت په زمانه کښی رواج و د معمولی ننګ او عار لامله (له وجی) به ئې جونی ژوندی په هدیرو (مقبرو) کښی خښولی او په ځینو وقتو کښی به ئې د لوږی له ویری هم خپل اولاد واژه

وَلَا يَأۡتِينَ بِبُهۡتَٰنٖ يَفۡتَرِينَهُۥ بَيۡنَ أَيۡدِيهِنَّ وَأَرۡجُلِهِنَّ

او نه به راتله کړی په دروغو سره چه جوړوی ئې دوی په منځ د لاسو او پښو خپلو کښی (یعنی له خپله ځانه)

**تفسیر:** او بیعت واخله ای محمدا پیغمبره له ښځو څخه په دی خبره چه نه به راځی په دروغو سره چه جوړوی هغه دروغ په منځ د لاسونو او پښو خپلو یعنی چه حرامزاده اولاد رانه وړی او په بل چا باندی په دروغو سره دعوی کوی . یا په دروغو سره شاهدی ورکوی. یا په کومه معامله کښی له خپل ځانه خبره جوړه کړی په دروغو سره او قسمونه خوری بله معنی ئې دا ده چه د خپل ځیږولی اولاد نسبت په دروغو سره بل چاته کوی یا د بل چا اولاد پټوی او داسی وائی چه دا می له خپل میره (خاوند) دی . یعنی په مکر او فریب دروغ درغلی او ناروا سره خپل اولاد بل ته یا د بل اولاد ځان ته کوی په حدیث شریف کښی راغلی دی «هغه ښوک چه یو اولاد بل ته ورکوی جنت په هغه باندی حرام دی» .

وَلَا يَعْصِينَكَ فِي مَعْرُوفٍ فَبَايِعْهُنَّ

او نه به کوی نافرمانی له تا څخه په معروف ښو چارو کښی نو ته بیعت وکړه له دوی سره

**تفسیر:** پخوا ئې فرمایلی ؤ هغه مسلمانی ښځی دی چه په هجرت کولو سره راځی وپوښتلی شی . دلته دا راښیی چه د هغوی پوښتل دا دی که دا ګرد (تول) حکمونه چه په دی آیت کښی دی هغوی ومنی نو د هغوی ایمان ثابت وګڼه ! دی آیت ته د بیعت آیت وایه شی . څمونږ د پیغمبر په مخ کښی به چه ښځو بیعت کاؤ نو هم دا اقرار به ئې له دوی څخنی په ژبه سره اخیست لیکن د بیعت په وقت کښی د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم لاس د هیڅ یوی ښځی لاس ته نه دی رسیدلی .

وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢﴾

او مغفرت ښښنه وغواړه دپاره د دغو (ښځو) له الله بیشکه چه الله ښه مغفرت کوونکی (د خطیاتو) ډیر رحم والا دی (په انعام د اجر او ثواب سره)

**تفسیر:** یعنی په دی چارو کښی هغه لندون (کوتاهی) چه پخوا له دی څخه شوی دی یا د دی احکامو په ځای راوړلو کښی وروسته له دی نه کوم تقصیر وریپیښ شی نو څکه تاسی د هغوی په حق کښی د مغفرت او ښښنی غوښتنه وفرمایٔ تر څو الله تعالیٰ ستاسی په برکت د دوی تقصیرات وروبښی .

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ

ای هغو کسانو چه ایمان ئې راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو !) مه کوئ دوستی له هغه قوم (د یهودو) سره چه په قهر شوی دی الله پر دوی باندی

**تفسیر:** هغه خبره چه د دی سورت په شروع کښی وه د دی سورت په ختم کښی ئې هم د هغه یاد وفرمایه یعنی د مؤمن په شان کښی نه دی چه له هغه چا سره رفاقت او دوستی وکړی چه الله تعالیٰ ورڅخه خفه شوی وی په هر چا باندی چه پاک الله په قهر وی ښائې چه د الله تعالیٰ دوستان هم له هغه سره خفه وی

قَدْ يَئِسُوْا مِنَ الْاٰخِرَةِ كَمَا يَئِسَ الْكُفَّارُ مِنْ اَصْحٰبِ الْقُبُوْرِ ﴿١٣﴾

په تحقيق نااميده شوى دى دغه (يهودان) له (ثواب د) آخرته لكه چه نااميده شوى دى كافران (له خيره د آخرت) له تولگيو ملگرو د هديرو (مقبرو) څخه

**تفسير:** يعنى منكران داسى توقع نه لرى چه له هديرى (مقبرى) څخه به څوک پاڅيږى او بيا به په بل ژوندون كښى يو له بل سره وگورى دا كافران هم هم هغسى نااميده دى

**تنبيه:** د ځينو مفسرينو په نزد ﴿ مِنْ اَصْحٰبِ الْقُبُوْرِ ﴾ د كفارو بيان دى يعنى هغسى چه هغه كافران چه هديرو (مقبرو) ته رسيدلى دى او د هغه ځاى له حال او احوال څخه خبر شوى دى او د الله د مهربانى او خوښى څخنى بالكل بى‌هيلى او نااميده شوى دى هم دا راز (قسم) دا كافران هم د آخرت له لورى بالكل بى‌اسرى او نااميده دى

## تمت سورة الممتحنة بفضل الله تعالىٰ ومنه وكرمه

سورة الصف مدنية وهى اربع عشرة آية وفيها ركوعان رقمها (٦١) تسلسلهاحسب النزول (١٠٩) نزلت بعد سورة التغابن

د «الصف» سورت مدنى دى (١٤) آيتونه دوه ركوع لرى په تلاوت كښى (٦١) او په نزول كښى (١٠٩) سورت دى وروسته د «التغابن» له سورت نازل شوى دى

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع كوم په نامه د الله چه ډير زيات مهربان پوره رحم لرونكى دى

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿١﴾
يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ﴿٢﴾ كَبُرَ مَقْتًا
عِنْدَ اللّٰهِ اَنْ تَقُوْلُوْا مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ﴿٣﴾ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الَّذِيْنَ
يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِهٖ صَفًّا كَاَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَّرْصُوْصٌ ﴿٤﴾

نسبت د پاکی کوی الله لره هر هغه څیزونه چه په آسمانونو کښې دی او (هر هغه څیزونه چه) په ځمکه کښې دی (سره له آسمانونو او ځمکی) او همغه (الله) ښه غالب قوی دی ښه حکمت والا دی ای هغو کسانو چه ایمان ئې راوړی (یعنی ای مؤمنانو) ولې وایئ تاسی هغه (خبره) چه نه ئې کوئ لویه ده له جهته د غضبه په نزد د الله (دا خبره) چه وایئ تاسی هغه څه چه نه ئې کوئ بیشکه الله (مدد ورکوی) خوښوی هغه کسان چه جنگ کوی په لاره (د دین) د دغه (الله) کښې صف تړونکی گواکی دوه بناگانی په قلعی سره تینگکی کړی شوی (ښی محکمی)

**تفسیر:** هر بنده ته ښائ چه له لوئ ځانمنمی(تکبر) او باټ (لاف) وهلو او له ناحقو دعوی ځنی وویریږی ځکه چه وروسته به په جنجال او ربړو (تکلیفونو) کښې اخته شی . له خولی څخه د یوی خبری ایستل ډیر اسانه دی مگر د هغی سر ته رسوونه ډیر سخت کار دی . الله تعالیٰ له هغه سری څخه ډیر خفه او ناراض کیږی چه په ژبه سره یو شی وائ خو کول ئې هسی نه وی . په روایاتو کښې راغلی دی چه په یو ځای کښې څه مسلمانان گرد (تول) سره تول شوی ؤ نو وئ ویل که مونږ ته دا خبره راښکاره شی چه الله تعالیٰ د کوم کار له کولو څخه ډیر خوښیږی مونږ تول به همغه غوره کوو . په دی خبری باندی دا آیتونه رانازل شول چه خبردار وگورئ! په احتیاط سره داسی خبری کوئ ! دا ده ! در وائی خلئ د الله تعالیٰ په دربار کښې هغه سری گران دی او زیات محبت ورسره کوی چه د الله تعالیٰ په لاره کښې د هغه د دښمنانو په مقابل کښې لکه د اوسپنی دیوال غوندی تینگ ودریږئ او د جهاد په ډگر(میدان) کښې خپل معنوی صفونه داسی وتړی چه گواکی داسی یو مضبوط دیوال دی چه له سریو څخه ریژیدلی شوی وی . او په هغه کښې له هیڅ لوری کوم کنداو او رخنه نه وی لویدلی نو اوس په دی معیار سره هر سری خپل ځان ته وگورئ نو هلته به دا خبره ورښکاره شی چه په تاسی کښې ډیر سری داسی دی چه په دی معیار سره اکمل ـ کامل ـ جوړ او مناسب ښکاری . مگر ځینی به داسی څرگندیږی (ښکاریږی) چه په ځینو مواقعو کښې په ژبه او تشو ویناؤ سره ډیر وئیږی مگر د هغوی عمل هغه ورتکذیبوی او دروغ ئې ورښکاروی . لکه چه د احد په غزا کښې هغه (بنیان مرصوص) ولی تینگ پاتی نه شو؟ هو ! کله چه د قتال حکم نازل شو . ځینو خلقو داسی هم وویل ﴿ رَبَّنَا لِمَ كَتَبْتَ عَلَيْنَا الْقِتَالَ لَوْلَا أَخَّرْتَنَا ﴾ الآیة ـ (النسآء) په هر حال سره نه ښائ چه په ژبه سره ویناوی وکړئ ! لاف او باټ ووهئ ! او ناحقی دعوی وکړئ ! مگر د کولو او عمل په وقت کښې هیڅ ونه کړی شئ بلکه بهتر خو دا ده چه تاسی په ژبه سره هیڅ ونه وایی مگر د کولو په ډگر(میدان) کښې خپله قربانی الله تعالیٰ ته وروړاندی کړئ چه د بری لویه برخه مو درورسیږی . د موسیٰ علیه السلام قوم ته نه گورئ چه په ژبه سره د تعالی ـ تفاخر او تمائز

ډیری خبری اتری کولی خو د عمل په ډګر(میدان) کښی هیڅ شول . هر کله چه د کار کومه موضع ورپیښیدله نو سم د لاسه به نه خوځیدل او د پر مخ تګ د تللو قوت به ئ نه درلود (لرلو) او ډیر خفه کوونکی خبری به ئ کولی له هسی چارو ځنی کومه نتیجه چه راووته د هغی بیان وروسته له دی نه فرمائ.

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦ يَٰقَوْمِ لِمَ تُؤْذُونَنِى وَقَد تَّعْلَمُونَ أَنِّى رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُمْ ۖ

او (یاد کړه ای محمده ! هغه وقت) کله چه وویل موسیٰ علیه السلام قوم خپل ته داسی چه ای قومه ځما ولی اذیت ضرر رسوئ تاسی ماته (په بد ویلو سره) حال دا چه په تحقیق پوهیږئ تاسی په دی چه بیشکه زه رسول د الله یم تاسی ته

**تفسیر:** یعنی د ښکاره دلیلونو او څرګندو (ښکارو) معجزاتو په لیدلو سره تاسی پخپلو زړونو کښی باور کوئ چه زه د الله تعالیٰ رښتین رسول او پیغمبر یم بیا خو می په ډیرو ناکاره او زړه خفه کوونکیو حرکتونو سره ولی ربړوئ (تکلیفوی) ؟ دا معامله خو یو معمولی ناصح او خیر غوښتونکی سری سره هم نه ښائیږی د افسوس ځای دی چه تاسی هسی معامله د الله تعالیٰ له رسول سره کوئ ایا ځما زړه ته له داسی خرابو حرکاتو څخه درد نه رسیږی ؟ چه کله یو بی ساه خوسکئ جوړوئ او بیا هغه خپل او د موسیٰ علیه السلام خدای ګڼئ کله چه له (عمالقی) سره د جهاد کولو امر پر تاسی باندی کیږی نو وایئ مونږ به هیڅ جنګ ته نه ځو ته دی د خپل رب سره ځه هغوی سره جګړه وکړئ مونږ دلته درته ناست یو. او د دی په شان نوری اپلتی او چتی (بیکاره) خبری لکه چه موسیٰ علیه السلام له دی خبری ځنی په تنګ شو او وئ ویل ﴿ رَبِّ إِنِّى لَآ أَمْلِكُ إِلَّا نَفْسِى وَأَخِى ۖ فَٱفْرُقْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ ٱلْقَوْمِ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴾

فَلَمَّا زَاغُوٓا۟ أَزَاغَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُمْ ۚ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ ⑤

نو هر کله چه وګرځیدل دوی (له احکام الله نه) نو وګرځول الله زړونه د دوی (له هدایت او یقین نه) او الله نه ښیی سمه صافه لاره فاسقانو نافرمانانو ته (په علم د دغه الله کښی).

**تفسیر:** قاعده ده چه ډیرو بدیو کولو څخه زړه تک تور او سختیږی تر دی چه د ښو کارونو

دپاره په هغه کښې هيڅ يو ځای نه پاتې کيږی هم دا حال د هغوی شو چه په هره خبره کښې به ئې د الله تعالیٰ له رسولانو سره عناد او ضد او اختلاف کاوه او در گرده (توله) به ئې په کږو چالونو سره تگ کاوه تر څو چه مردود شول او الله تعالیٰ د هغوی زړونه هسې کاږه کړل چه د سمې خبرې د منلو صلاحيت هيڅ په کښې پاتې نه شو له داسې ضد کوونکيو نافرمانانو سره د الله تعالیٰ هم داسې عادت دی .

وَإِذْ قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ يَٰبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ إِنِّى رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُم مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَىَّ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ

او (ياد کړه ای محمده ! هغه وقت) کله چه ووييل عيسیٰ ځوی د مريمې داسې چه ای بني اسرائيلو (اولاده د يعقوب) بيشکه زه رسول ليږلی شوی د الله يم تاسې ته (حال دا چه) تصديق کوونکی يم د هغه کتاب چه وړاندې ځما دی له توريت څخه .

**تفسير:** يعنی اصلاً زه د دی خبرې تصديق کوم چه توريت د الله تعالیٰ له لورې راغلی دی او په اخبارونو او احکامو ئې يقين او باور لرم. او ځما گرد (تول) تعليم او ښوونې په حقيقت سره د همغو اصولو باندې مبني دی چه په توريت کښې ښوولی شوی دی .

**تنبيه:** ابن کثير رحمة الله عليه او نور پوهان د ﴿ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ ﴾ الآية - مطلب داسې اخلی چه ځما وجود د توريت د خبرو تصديق کوی ځکه چه زه د هغو شيانو مصداق يم چه په توريت شريف کښې ذکر شوی دی . والله اعلم.

وَمُبَشِّرًۢا بِرَسُولٍ يَأْتِى مِنۢ بَعْدِى ٱسْمُهُۥٓ أَحْمَدُ

او زيرې کوونکی يم په هغه رسول سره چه را به شي وروسته له ما څخه چه نوم د هغه احمد دی

**تفسير:** يعنی د پرومبنی تصديق کوم او د وروستنی زيری اورم . هسې خو نورو پخوانيو پيغمبرانو هم د خاتم الانبياء د تشريف راوړلو زيری اورولی دی خو په هغه صراحت او ښکاره ډول (طريقه) سره چه حضرت مسيح عليه السلام په ډير اهتمام سره د حضرت محمد رسول الله صلی الله تعالیٰ عليه وعلیٰ آله وصحبه وسلم د راتگ زيری اورولی دی هغسی له نورو څخنې نه دی منقول شوی . ښائې چه د قرب العهد له وجې دا خصوصيت د ده په برخه کښې راغلی وی ځکه چه وروسته له

دوی څخه پرته (علاوه) د نبی آخر الزمان صلی الله علیه وسلم بل کوم پیغمبر راتلونکی نه دی . دا رښتیا ده چه د یهودانو او نصاراؤ د مجرمانه ؤ غفلتونو او متعمدانه ؤ لاس اچولو لامله (له وجی) نن د دنیا په لاسو کښی د اصلی توریت او د انجیل او نورو آسمانی کتابونو په استثناء د قرآن کریم کومه صحیحه نسخه نه ده پاتی چه د هغو له لوستلو څخه نری والان (اهل جهان) ښه وپوهیږی چه پخوانیو پیغمبرانو په تیره بیا حضرت مسیح علیٰ نبینا وعلیه الصلوٰة والسلام څمونږ د خاتم الانبیاء صلی الله علیه وعلیٰ آله وصحبه وسلم په نسبت څه زیری اورولی دی ؟ او په کومو الفاظو سره ئ هغوی ستایلی دی ؟ نو ځکه هیچا ته دا حق نه دی پاتی چه هغه د قرآن کریم دا صاف او صریح بیان له دی سببه دروغ وبولی چه په تحریف شوی بائیبل کښی نشته . سره له دی ښائ دا د حضرت خاتم الانبیاء صلی الله علیه وعلیٰ آله وصحبه وسلم له معجزاتو څخه وګڼله چه حق تعالیٰ دی محرفینو ته دومره قوت ور نه کړ چه هغوی د دی آخر الزمان پیغمبر په نسبت هغه ګردی (تولی) پخوا ویلی خبری وباسی یا ئ بالکل محوه کړی تر څو د هغه هیڅ یوه نښه هم پاتی نشی . لکه چه په موجوده بائیبل کښی په شلو ځایونو کښی د حضرت محمد مصطفیٰ ذکر نژدی تر تصریح پوری هم شته . او عقل او انصاف لرونکیو لره په هغو کښی د تأویل او د انکار ځای قطعاً نه دی پاتی . او د (یوحنا) په انجیل کښی د (فارقلیط یا پیر کلوطوس) والا بشارت خو دومره ښکاره او صاف دی چه د هغه مطلب بی تکلف پرته (علاوه) له احمد چه معنی ئ (محمود ستایلی شوی ستوده ـ برگزیده) ده بل کوم شی نشی کیدی . لکه چه د اهل الکتاب ځینو منصفو عالمانو هم پر دی باندی مجبور او لاعلاجه اقرار او اعتراف کړی دی او ویلی ئ دی چه د دی پخوا ویلو او پیشګوئ اطلاق او انطباق په پوره ډول (طریقه) سره پر حضرت محمد مصطفیٰ صلی الله تعالیٰ علیه وعلیٰ آله و صحبه وسلم او روح القدس باندی کیدونکی دی . او پرته (علاوه) له دوی څخه بل هیڅوک مراد نه دی. لله الحمد چه اسلامی علماؤ پر دی بشاراتو باندی ځان ته مستقل کتابونه لیکلی دی . او د تفسیر حقانی فاضل مؤلف د (فارقلیط) والا په بشارت او د (بائیبل) په تحریف باندی د (صف) د سورت په تفسیر کښی ډیر ښه مشبع بحث کړی دی . الله تعالیٰ دی هغه ته د خیر بدل ورکړی .

فَلَمَّا جَآءَهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ قَالُواْ هَٰذَا سِحۡرٞ مُّبِينٞ ⑥

بیا (وائ الله) کله چه راغی هغه (رسول) دوی ته په ښکاره ؤ معجزو سره وویل (بنی اسرائیل) دا (قرآن) سحر کوډی دی ښکاره .

**تفسیر:** یعنی حضرت مسیح سره له ښکاره نښو راغی . یا د هغه شی زیری ئ چه ورکړی ؤ حضرت احمد مجتبیٰ محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم له هغو ښکاره ؤ معجزاتو سره راغی نو خلقو هغه سحر کوډی او جادو وبللی .

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ وَهُوَ يُدْعَىٰ إِلَى الْإِسْلَامِ ۚ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿٧﴾

او څوک دی ډیر ظالم (بلکه هیڅوک نشته) له هغه چا څخه چه له ځانه تړی په الله پوری دروغ او (حال دا چه) دی بللی شوی دی طرف د اسلام ته او الله نه ښیی سمه صافه لاره قوم ظالمانو بی انصافانو ته (په علم د دغه الله) .

تفسیر: یعنی کله چه هغوی ته د اسلام په لوری بلنه کیږی نو حق پټوی او له خپل ځانه دروغ جوړوی او پر محمد صلی الله علیه وسلم باندی له ایمان راوړلو څخه مخ اړوی ، هغوی پر الله تعالیٰ د بشر یا په بشر باندی د خدای حکم کوی . په آسمانی کتابونو کښی تحریفونه کوی . او له هغو شیانو څخه چه واقعیت او حقیقت لری منکریږی او هغه شیان چه هیڅ حقیقت نه لری په آسمانی کتابونو کښی داخلوی . نو له دی څخه به لوی ظلم څه وی؟ او د الله تعالیٰ له جانبه داسی بی انصافانو ته به هدایت چیری په برخه کیدی شی؟. او ممکن دی چه په ﴿ لَا يَهْدِي ﴾ کښی دی لوری ته هم اشاره وی چه دا ظالمان چه هومره انکار ـ تحریف او تأویل وکړی الله تعالیٰ به هغوی ته د بری لاره نه ورښیی ګواکی د پیغمبر په نسبت چه دوی ئې خبری پټوی یا ئې لری کوی په هغه کښی دوی بری نه مومی او څه ئې له لاسو ځنی نه پوره کیږی لکه چه سره له زرهاؤ لری کولو او پری کولو ځنی اوس هم د نبی آخر الزمان په نسبت یوه د بشاراتو لویه ذخیره د هغوی په کتابونو کښی شته .

يُرِيدُونَ لِيُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَاللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ ﴿٨﴾

اراده لری غواړی (منکران) چه مړه کړی رڼا (رڼرا) د الله (شریعت د محمد) په خولو خپلو سره او الله پوره کوونکی د رڼا (رڼرا) خپلی دی اګر که بد ګنی دغه (اتمام د رڼا (رڼرا)) لره کافران منکران.

**تفسیر:** یعنی که کافران منکران بد وګنی او خفه هم شی خو سره له هغه پاک الله خپله رنا (رنړا) پوره رنوی. او د الله تعالیٰ د مشیت په خلاف کوښښ کول هسی دی لکه چه کوم احمق د لمر رنا (رنړا) پخپله خوله سره مړه کوی. هم دا حال دی د حضرت محمد مصطفیٰ د مخالفانو او د مخالفانه ؤ زیار (کوشش) و.

**تنبیه:** ښائی (بافواههم) له لفظ څخه دی لوری ته هم اشاره وی د بشاراتو د اخفاء او انکار دپاره هغه دروغ او چتی (بیکاره) خبری چه هغوی ئی جوړوی هیڅ کله به نه رښتیا کیږی که په زرهاؤ ځله دوی کوشش وکړی چه (فار قلیط) محمد صلی الله علیه وسلم نه دی خو الله تعالیٰ ئی ورثابتوی چه هغه هم دی دی او پرته (علاوه) له حضرت محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم څخه بل څوک ئی مصداق کیدی نشی.

---

هُوَ الَّذِیٓ اَرۡسَلَ رَسُوۡلَهٗ بِالۡهُدٰی وَدِیۡنِ الۡحَقِّ لِیُظۡهِرَهٗ عَلَی الدِّیۡنِ كُلِّهٖ وَلَوۡ كَرِهَ الۡمُشۡرِكُوۡنَ ﴿۹﴾

---

دغه (الله) هغه (ذات) دی چه رالیږلی ئی دی رسول خپل (محمد) په هدایت سمه صافه لاره او په دین حق لپاره د دی چه غلبه ورکړی (الله) دغه (حق دین) ته پر دینونو تولو باندی اګر که بده ګنی (دغه غلبه) مشرکان.

---

**تفسیر:** په دی آیت باندی د (براءة) د سورت په تفاسیرو کښی خبری شوی دی هلته دی وکتلی شی.

---

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا هَلۡ اَدُلُّكُمۡ عَلٰی تِجَارَةٍ تُنۡجِیۡكُمۡ مِّنۡ عَذَابٍ اَلِیۡمٍ ﴿۱۰﴾ تُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوۡلِهٖ وَتُجَاهِدُوۡنَ فِیۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ بِاَمۡوَالِكُمۡ وَاَنۡفُسِكُمۡ ذٰلِكُمۡ خَیۡرٌ لَّكُمۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۱۱﴾ یَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوۡبَكُمۡ وَیُدۡخِلۡكُمۡ جَنّٰتٍ تَجۡرِیۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ

---

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو) آیا دلالت وکړم تاسی ته (دروښیم تاسی ته) په هسی تجارت سوداګری چه نجات درکوی

خلاصوی تاسی له عذاب دردناک (پس دغه تجارت او سوداګری کوئ چه هغه دا ده) ښه ټینګ محکم مضبوط اوسئ په ایمان باندی چه لرئ ئی په الله باندی او په رسول استاځی د دغه (الله) او جهاد جنګ کوئ تاسی (ای مؤمنانو له اعداءالله سره) په لاره د الله کښی په اموالو خپلو سره او په نفسو خپلو سره (چه جنګ ته ئی وړاندی کوئ) دغه (ټینګ ایمان او مالی او جانی جهاد) خیر بهتر دی تاسی ته (ای مؤمنانو له نورو دنیوی معاملاتو ښخه) که چیری یئ تاسی چه پوهیږی (په طریقی د حقیقی تجارت باندی پس محکم ایمان راوړئ او پوره جهاد وکړئ نو) وبه ښښی (الله) تاسی ته (ای مؤمنانو په دنیا کښی تیر شوی) ګناهونه د تاسی او داخل به کړی تاسی (ننه باسی به مو په داسی) جنتونو کښی چه بهیږی له لاندی (د مانیو او ونو) د هغو (د پاکو شرابو او د شاتو او د شودو او د خوږو اوبو) ویالی

**تفسیر:** یعنی دغه دین ته پر نورو ادیانو باندی بری ورکول د الله تعالیٰ کار دی خو پر تاسی باندی دا فرض دی چه پخپل ایمان باندی په ښه دول (طریقه) سره مستقیم اوسئ او د هغه په لاره کښی په ځان او مال سره جهاد وکړئ دا هغه تجارت او سوداګری ده چه هیڅ زیان پکښی نشته. په دنیا کښی به زرهاؤ کسان داسی پلورل او پیرودل (اخستل او خرڅول) کوی او خپله ګرده (توله) پنګه (سرمایه) په هغه کښی لګوی او یواځی په دی هیله (امید) چه له هغه ښخه ګټی واخلی او په دی وسیله خپل رأس المال له تلف کیدلو ښخه وساتی. او خپل ځان او آل او عیال له تنګسی افلاس او نورو ربړو (تکلیفونو) ځنی وژغوری (وساتی). لیکن مؤمنان به د خپلو ځانونو او مالونو پنګه (سرمایه) په هغه اعلیٰ تجارت کښی لګوی چه د هغه لامله (له وجی) د دنیا د ښو ورځو له تنګسی ځنی نه بلکه د آخرت د دردناک عذاب او له تباه کوونکی خساری ښخه ساتل کیږی. که مسلمانان وپوهیږی نو دا تجارت د دنیا له ګردو (تولو) تجارتونو ښخه بهتر دی ځکه چه د هغه ګټه (فائده) کامله مغفرت او دائم جنت دی چه له هغه ښخه پورته او ښه بری او مراد موندل بل نشته.

وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنّٰتِ عَدْنٍ ؕ

او (داخل به مو کړی) په ځایونو ښائسته ؤ پاکیزه ؤ کښی (چه جوړ شوی دی) په جنتونو د همیشه اوسیدلو کښی

**تفسیر:** یعنی هغه پاکیزه مانی به د هغو جنتونو په مخ کښی وی چه هلته مؤمنان اوسیږی. دا خو د آخرت کامیابی ده وروسته له دی د دنیا د اعلیٰ او انتهائی کامیابی او بری ذکر هم

راځي چه.

ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿۱۲﴾ وَأُخْرَىٰ تُحِبُّونَهَا نَصْرٌ مِّنَ اللَّهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ

دغه (مغفرت او ادخال د جنت مؤمنانو ته) فوز عظيم بری موندل په مراد رسيدل ډير لوی دی او (الله تاسی ته ای مؤمنانو درکړی دی له) بل (دنيوی نعمت چه) خوښوئ غواړئ تاسی هغه (نعمت) نصرت مدد کومک حفاظت دی له (جانبه د) الله او فتح قريب بری نژدی ده.

**تفسير:** يعنی اصلی او لوی بری او کاميابی خو هغه ده چه په جنت کښی ورکاوه شي چه د هغه په مقابل کښی د اوو اقليمو او د تول جهان شهنشاهی هيڅ ده. خو په دنيا کښی هم يو داسی شي تاسی ته درکاوه کيږی چه هغه ستاسی په نزد طبعاً ډير غوره او محبوب دی. او هغه ﴿ نَصْرٌ مِّنَ اللَّهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ ﴾ دی يعنی د الله تعالیٰ له لوری يو ځان ته مخصوصه مرسته (مدد) او امداد او ژر حاصل کيدونکی فتح او ظفر چه له دوی ځنی به هر يو له بل سره هسی تعلق لری لکه خوله او لاس ـ ګردی (تولی) نړی (دنيا) وليد چه د هجری د ړومبنيو پيړيو مسلمانان دا وعدی په څه صفائی او ښه والی سره پای (آخر) ته ورسولی. نن هم که مسلمانان په حقيقی معنی مؤمنان او مجاهدان شي او د جهاد فی سبيل الله په لاره کښی ثابت قدم شي نو دا بری او کاميابی د هغوی د پښو ښکلولو (قدمبوسی) ته حاضر دی.

وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ ﴿۱۳﴾

او بشارت زيری ورکړه (ای محمده) مؤمنانو ته (په دنيوی فتح نصرت او آخروی مغفرت او جنت)

**تفسير:** ځکه چه د دی زيری او بشارت اورول هم ځان ته يو مستقل بخشش او انعام دی.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا أَنصَارَ اللَّهِ

ای هغو کسانو چه ايمان ئی راوړی دی (يعنی ای مؤمنانو) شئ تاسی مرسته (مدد) کوونکی (د دين) د الله (لکه چه مرسته (مدد) کړی وه حواريونو)

**تفسير:** يعنی د هغه الله تعالیٰ د دين او د ده د رسول الله صلی الله عليه وسلم او استاځی مرستی

او مددګار شئ ! لکه چه د دی حکم د تعمیل په اثر د الله تعالیٰ په فضل او احسان او توفیق سره په مسلمانانو کښی یوه ځان ته فرقه د «انصارو» په نامه پیدا شوه.

كَمَا قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيِّينَ مَنْ أَنصَارِي إِلَى اللَّهِ ۖ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنصَارُ اللَّهِ

لکه چه ویلی ؤ عیسیٰ ځوی د مریمی حواریونو(ملګرو خپلو) ته څوک دی مرسته (مدد) کوونکی ځما په لاره د الله کښی؟ نو وویل حواریونو(ملګریو د ده) مونږ یو مرسته (مدد) کوونکی (د دین) د الله

**تفسیر:** حوراپین د مسیح علیه السلام یاران لږ څه ښه او غوره سړی ؤ چه د خپل حسب او نسب په اعتبار دومره زیات معززان نه ګڼل کیدل دوی د حضرت مسیح علیه السلام دین ومانه او د عیسوی دین په دعوت او بلنه کښی لوئ قربانی ورکړی تر څو ئی چه په ښارونو او کلیو کښی خواره کړل. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «له حضرت عیسیٰ علیه السلام څخه وروسته د دوی یارانو او ملګرو ډیر ربړونه (تکلیفونه) د عیسوی دین په نشر او اشاعت کښی وګالل (برداشت کړل) تر څو ئی چه هغه خور کړ ځمونږ له پیغمبر څخه وروسته د دوی راشده خلیفګانو هم ډیر ربړونه (تکلیفونه) او زحمتونه پخپلو ځانونو باندی د محمدی دین په انتشار کښی اخیستی دی **الحمد لله علیٰ ذلک**

فَآمَنَت طَّائِفَةٌ مِّن بَنِي إِسْرَائِيلَ وَكَفَرَت طَّائِفَةٌ ۖ فَأَيَّدْنَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَىٰ عَدُوِّهِمْ فَأَصْبَحُوا ظَاهِرِينَ ﴿١٤﴾

نو ایمان راووړ یوی طائفی ډلی له بنی اسرائیلو نه (په عیسیٰ باندی چه بنده د الله دی پورته شوی دی آسمان ته) او کافر شوه پری بله طائفه ډله (چه ویل ئی عیسیٰ ځوی د الله دی پس دواړو طائفو جنګ سره وکړ) نو قوت مو ورکړ هغو ته چه ایمان ئی راوړی ؤ پر دښمنانو د دوی باندی پس وګرځیدل دوی (مؤمنان) غالبان (پر کافرانو).

**تفسیر:** یعنی بنی اسرائیل په دوو فرقو باندی وویشل شول یوه ئی په ایمان باندی قائمه پاتی شوه

او بلی له هغه څخه غاړه وغړوله بیا د حضرت مسیح علیه السلام ځنی وروسته دوی دواړو سره منګولی ولګولی او شخړی (جګړی) به ئی سره کولی ـ په پای (آخر) کښی د الله تعالیٰ په مرسته (مدد) په دی مباحث ـ مناظرو او جګړو کښی عیسویانو پر منکرانو باندی بری ومونډ او د حضرت مسیح علیه السلام پر نوم اخستونکیو (نصاریٰ) یهودانو باندی غالب شول وروسته له عمومی ګمراهی څخه د نصاراؤ ځینی پاتی سری ته چه صحیح عقیده ئی درلوده (لرله) حق تعالیٰ ځمونږ د نبی آخرالزمان په وسیله پر نورو باندی بری او غلبه وروبښله چه د دوی دا غالبیت او بری هم د حجت او برهان په اعتبار او هم د سلطنت، قوت او حیثیت له پلوه د افتخار وړ (لائق) ؤ **فلله الحمد والمنة**

## تمت سورة الصف بفضل الله تعالیٰ ومنه وکرمه فلله الحمد والمنة

سورة الجمعة مدنية وهی احدی عشرة آية وفيها رکوعان
رقمها (٦٢) تسلسلهاحسب النزول (١١٠) نزلت بعد سورة الصف
د «الجمعة سورت مدنی دی (١١) آیتونه (٢) رکوع لری په تلاوت کښی (٦٢) او په نزول کښی(١١٠)
سورت دی ورسته د «الصف» له سورته نازل شوی دی

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ الْعَزِيْزِ
الْحَكِيْمِ ① هُوَ الَّذِيْ بَعَثَ فِي الْاُمِّيّٖنَ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ
وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَاِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِيْ ضَلٰلٍ
مُّبِيْنٍ ②

نسبت د پاکی کوی خاص الله لره هر هغه څه چه په آسمانونو کښی دی (له علویاتو) او هر هغه څه چه په ځمکه کښی دی (له سفلیاتو) چه باچا تولواک

دی ډیر پاک دی له هره عیبه ښه غالب قوی دی ښه حکمت والا دی دغه (الله) هغه ذات دی چه پورته کړی لیږلی ئی دی په امیانو ناپوهانو کښی یو رسول (محمد) له دوی څخه چه لولی پر دوی باندی آیتونه د دی (قرآن) او پاکوی دوی (له شرکه له نورو رذیله و اخلاقو) او ښیی دوی ته کتاب (قرآن) او احکام (د قرآن) اگر که ۇ دوی پخوا له (بعثه د محمده) خامخا په گمراهی ښکاره کښی

**تفسیر:** «امیین» نالوستو عربو ته چه په دوی کښی علم او هنر هیڅ نه ۇ ـ نه ئی کوم آسمانی کتاب درلود (لرلو) ـ په معمولی لیک او لوست باندی هم د دوی ډیر لږ سری پوهیدل د دوی وحشت او جهالت په دنیا او نړی کښی ضرب المثل ۇ خدائ بالکل هیر ۇ پر بت منلو او اوهامو غوښتلو ـ فسق او فجور باندی د ابراهیمی ملت نوم ایښی ۇ ـ او تقریبا گرد (تول) قوم په صریحی گمراهی کښی ډوب تللی ۇ ـ ناڅاپه د الله تعالیٰ له لوری په دی قوم کښی یو رسول مبعوث شو چه د هغوی امتیازی لقب «نبی امی» دی خو سره د دی امی توب ئی خپل قوم ته له گردو (تولو) څخه زیات عظیم الشان کتاب راوړ او وائ وراوه ـ او د علومو او معارفو او د حکمت او پوهنی عجیبی او غیبی خبری وروښوولی او دوی هسی پوهان او حکیمان کړل چه د نړی لویو لویو حکیمانو ـ پوهانو ـ علماؤ ـ عرفاؤ او نورو به له دوی څخنی د علم او معرفت او کریمه اخلاق زده کول.

**تنبیه:** په هم دی مضمون نور آیتونه د (البقرة) او د (آل عمران) په سورتونو کښی هم تیر شوی دی هغه دی هلته وکتل شی.

وَّاٰخَرِيْنَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوْا بِهِمْ ؕ

او (الله پورته کړی لیږلی دی محمد لره په منځ د نورو راتلونکیو کښی) له مؤمنانو چه نه دی رسیدلی دوی هغو (پخوانیو) ته (په فضیلت کښی)

**تفسیر:** یعنی هم دا رسول صلی الله علیه وسلم د نورو راتلونکیو خلقو د هدایت دپاره هم یو واسطه دی ښائی هغوی ته د مبدأ او معاد او آسمانی شرائعو باندی د صحیح علم او پوره پوه د نه لرلو په واسطه مونږ امی او نالوستی ویلی شو ـ لکه د بلخ ـ هرات ـ سیستان ـ غزنی ـ کابل ـ خراسان ـ پارس ـ روم ـ چین ـ هند او نور قومونه چه وروسته له دی نه د دی امیونو په دین کښی داخل او په اسلامی اخوت ، وروری کښی شامل شول. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «حق تعالیٰ اول عربان د محمدی دین د نشر او اشاعت دپاره غوره کړل ـ وروسته له هغه ئی په عجمو کښی هسی پوره او کامل او فاضل سری راپورته کړل چه د اسلام لوی خدمتونه ئی

کړی دی» په حدیث کښی راغلی دی کله چه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخنی د ﴿ وَّاٰخَرِيْنَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوْا بِهِمْ ﴾ په نسبت پوښتنه وشوه نو دوی د سلمان پارسی رضی الله تعالیٰ عنه په اوګه باندی لاس کیښود او وئ فرمایل «که علم یا دین په ثریا کښی هم هسک (اوچت) لاړ شی نو د ده قوم به هغه له هغه ځایه راښکته کوی» شیخ جلال الدین سیوطی رحمة الله علیه او نور پوهانو دا خبره منلی ده چه د دی پیشګوئی لوی مصداق (څمونږ کابلی) امام اعظم ابوحنیفة النعمان بن ثابت بن روطی الکابلی ثم الکوفی دی رحمهماالله تعالیٰ.

وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝۳

او دغه (الله) ښه غالب قوی دی ښه حکمت والا دی.

**تفسیر:** چه د هغه زبردست قوت او حکمت د دی جلیل القدر پیغمبر په وسیله تر قیامت پوری د عربو او عجمو د تعلیم او تزکیی انتظام وفرمایه صلی الله علیه و علیٰ آله واصحابه وسلم.

ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ۭ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ۝۴

دغه (نبوت) فضل لوئ د الله (له طرفه) دی چه ورکوی ئی هغه چاته چه اراده وفرمائی د ورکولو ئی او الله خیښتن (خاوند) د فضل ډیر لوی دی.

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ته داسی لوئ ورکړه او دی امت ته ئی داسی د لوئ مرتبی خیښتن (خاوند) رسول وروباښه. «**فلله الحمد علیٰ ما انعم**» نو ښائی چه مونږ مسلمانان د دی انعام او اکرام په قدر وپوهیږو ـ او د خپل رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د لوړ (اوچت) تعلیم او تزکیی څخه ښه مستفید او منتفع شو او هیڅ قصور او لندون په کښی ونه کړو وروسته له دی نه د یهودانو مثال د عبرت په ډول (طریقه) بیانوی چه هغوی د خپل پیغمبر په کتاب کښی ډیر زیات غفلت ، بی پروائی کړی ده.

مَثَلُ الَّذِيْنَ حُمِّلُوا التَّوْرٰىةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوْهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ اَسْفَارًا ۭ

مثل د هغو کسانو چه مکلف کړی شوی ؤ هغوی په توریت (چه پری عمل

وکړی) بیا بار نه کړ هغوی هغه (توریت یعنی عمل ئی پری ونه کړ مثال د دغو کسانو چه علماء د یهودو دی) په مثل د خره دی چه په شا وړی کتابونه او نفع تری نشی اخیستی.

**تفسیر:** یعنی پر یهودانو باندی د توریت پیتی ایښود شوی ؤ - او دوی د هغه ذمه وار گرځولی شوی ؤ - خو هغوی د هغه د تعلیماتو او هدایاتو هیڅ پروا ونه کړه - او نه ئی محفوظ وساتل - او نه ئی پخپلو زړونو کښی ځای ورکړ - او نه ئی پری عمل وکړو - او نه د الله تعالیٰ له هغو فضلونو او انعامونو ځنی گټور شول چه د هغو له لوری هغوی ته ورعطا او ښېلی شوی ؤ بیشکه هغه توریت چه دوی حاملان تاکلی (مقرر کړی) شوی ؤ د ربانی هدایتو او حکمتونو یوه لویه خزانه وه نو کله چه دوی له هغه څخه منتفع نه شول نو د دوی مثال هسی شو لکه چه یو خر چه د علم او د حکمت ډیر لوی کتابونه پری بار شوی وی نو هغه ته پرته (علاوه) له دی څخه چه د هغه پیتی لاندی ستړی ستومان شی بله کومه گټه (فائده) نه وررسیږی.

نه محقق بود نه دانشمند

چارپای بر و کتابی چند

هو! دی پرته (علاوه) د شنو وښو له لټولو څخه بل شی پسی نه گرځی او له دی خبری سره هیڅ اړه (تعلق) او رابطه نه لری چه پر شا ئی لال او جواهر بار دی؟ که کوم بل چټی (فضول) او بیکاره څیز؟ که یواځی هغه په دی خبری باندی فخر کوی چه گورئ ځما پر شا باندی څرنگه عمده او قیمتداره کتابونه دی نو ځکه زه لوی عالم او معزز سړی یم نو دا وینا د هغه لا خرتوب ښکاره کوی.

بِئْسَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ؕ

بد دی مثل د قوم هغه (کسانو) چه دروغ وائی دوی په دلائلو (د قدرت) د الله

**تفسیر:** یعنی خراب قوم دی هغه کسان چه د هغوی مثال داسی وی الله مو دی تری پخپله پناه کښی وساتی! الله تعالیٰ په توریت او نورو کتابونو کښی کوم زیری چه د نبی آخرالزمان په نسبت ورکړی دی او هغه دلائل او براهین چه د دوی پر رسالت باندی قائم دی د هغو دروغ بلل د الله تعالیٰ آیتونه دروغ گڼل دی.

وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۝٥

او الله نه ښیي سمه صافه لاره قوم ظالمانو ته (کافرانو ته)

**تفسير:** يعنى هسى معاندانو زوراورانو او بى انصافانو ته د هدايت توفيق نه وركوى.

قُلْ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ هَادُوْٓا اِنْ زَعَمْتُمْ اَنَّكُمْ اَوْلِيَآءُ لِلّٰهِ مِنْ دُوْنِ
النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝٦ وَلَا يَتَمَنَّوْنَهٗٓ
اَبَدًا بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ بِالظّٰلِمِيْنَ ۝٧

ووایه ته (ای محمده!) ای هغو کسانو چه یهودان شوی یی که گمان دعوی کوئ تاسی (د دی) چه بیشکه تاسی دوستان یئ د الله پرته (علاوه) له نورو خلقو (چه مؤمنان دی) نو (فرمائی الله) ارزو وکړئ د مرگ که چیری یئ تاسی صادقان رښتینی (په دغه ادعاء د دوستی کښی) حال دا چه وبه نه کړی دوی ارزو د دغه (مرگ) هیچیری په سبب د هغو کارونو چه مخکښی لیږلی دی لاسو د دوی (لکه قتل او تکذیب الانبیاء او نور) او الله ښه عالم دی (په احوالو د) گردو (تولو) ظالمانو (کافرانو نو وربه کړی ورته جزاء)

**تفسير:** يعنى سره له دى ناپوهى ـ جهل او حماقت داسى دعوى كوى چه مونږ بى د نورو له شركته د پاک الله دوستان يو ـ او ـ جنت واكوالان او حقداران يو ـ كله چه له دنيا څخه ولتيږو نو سم دلاسه جنت ته ځو كه په رښتيا سره دوى خپلو زړونو كښى داسى يقين لرى ـ او پخپلو دغو دعوو كښى رښتين دى نو ضرور ؤ چه دوى د دنيا له مكدر عيش څخه خپل زړونه شكولى او د حقيقى محبوب او د جنت الفردوس په تمنا كښى به ئى د مرگ ارزو كوله ځكه هغه چاته چه دا خبره يقيناً ښكاره وى چه ځما درجه د الله تعالىٰ په دربار كښى ډيره لويه ده او هلته ځما دپاره هيڅ يوه خطر او ويره نشته نو هغه بيشكه په مر كيدلو باندى خوښيږى او مرگ داسى گڼى لكه چه يو دوست له بل يو دوست سره يو ځاى كوى او د دوى په ژبو باندى به داسى تورى وى

(غدا نلقى الأحبة محمداً و حزبه)
يا(حبذا الجنة و اقترابها طيبة و بارد شرابها)
أو (حبيب جاء على ناقة)

أو (یابنی لایبالی أبوک سقط علی الموت أو سقط علیه الموت)
او د دی په شان نور دا د هغو اولیاؤ الله خبری دی چه نه د دنیا د مصیبتونو او سختیو او ویرولو لامله (له وجی) بلکه خالص د الله تعالیٰ د لقاء ، تمنا یا د جنت په اشتیاق کښی به ئی د موت تمنا کوله او د هغوی افعالو او حرکاتو به هم داسی شاهدی ویله چه مرگ هغوی ته د دنیا د گردو (ټولو) لذایذو څخه ډیر لذیذ او خوندور دی لکه څمونږ پیغمبر صلی الله علیه وعلیٰ آله وصحبه وسلم فرمایلی دی «**لوددت انی اقتل فی سبیل الله ثم احیا ثم اقتل**» د دی په مقابل کښی د دی دروغجنو مدعیانو پر افعالو او حرکاتو باندی نظر واچوی چه له دوی څخنی زیات له مرگ څخنی ویریدونکی بل څوک نشته دوی د مرگ د نوم له اوریدلو څخنی ویریږی او لری تری تښتی ـ نه د دی دپاره که هغوی ډیر کلونه ژوندی پاتی شی نو زیاتی ښیگڼی (فایدی) به گټی بلکه یواځی د دی دپاره چه د دنیا له حرص څخه هیڅ کله د دوی گیډی ډکی شوی نه دی او داسی گڼی د هغو چارو له وجی چه دوی ئی دلته کوی په مجرد د دی چه دوی له دی ځایه وخوځیږی د هغو په سزا به اخته کیږی لنده ئی دا چه د هغوی له گردو (ټولو) افعالو او اطوارو څخه لکه رڼا (رڼرا) ورځ داسی ښکاری چه هغوی د یوی رپی (لمحی) دپاره هم د مرگ ارزو نشی کولی او ممکن دی چه د هغی زمانی یهودانو د دی قرآنی دعوی د دروغ بللو دپاره په دروغو په ژبه سره د مرگ ارزو ښکاروله ـ مگر الله تعالیٰ دا قدرت هم له هغوی څخنی اخیستی ؤ۔ په روایاتو کښی راغلی دی چه که له دوی څخنی به کوم یهودی د موت تمنا کوله نو په همغه وقت کښی به د ده په غاړه کښی غړوندی لویده او واږه کیده به.

**تنبیه:** په هم دی مضمون یو بل آیت د (البقرة) په سورت څمونږ د دغه مبارک تفسیر کښی هم تیر شوی دی دلته دی هم د هغه تفسیر بیا وکتل شی د ځینو اسلافو په نزد د موت د تمنا مطلب «مباهله» وه یعنی معاندو یهودانو ته وویل شو که «هغوی په رښتیا سره د خپلو اولیاء کیدلو یقین لری ـ او مسلمانان په باطلو باندی گڼی نو داسی دی تمنا وکړی د دواړو فریقینو له منځه هر څوک چه دروغجن وی مړ دی شی!» مگر هغوی به هیڅ کله داسی نه کوی ځکه چه هغوی ته د دوی د کذب او د ظلم یقین حاصل دی ابن کثیر رحمة الله علیه او ابن قیم رحمة الله علیه او نورو هم دا توجیه غوره کړی ده. والله اعلم.

قُلْ إِنَّ الْمَوْتَ الَّذِي تَفِرُّونَ مِنْهُ فَإِنَّهُ مُلَاقِيكُمْ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَىٰ عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٨﴾

ووایه (ای محمده ! دغو یهودانو ته) بیشکه مرگ هغه چه تښتئ تاسی له هغه نه (او نه ئی غواړئ) پس بیشکه هغه مرگ ضرور رسیدونکی دی تاسی ته بیا به بوتلی شئ تاسی په لوری د (هغه) ښه پوهیدونکی په پټو او په ښکاره ؤ باندی

پس خبر به كړي تاسي په هغو (كارونو باندې) چه وئ تاسي چه كول به مو (په دنيا كښې نو جزاء به پر دركړي)

**تفسير:** يعني اې يهودانو كه تاسي له مرګه ويرېږئ نو چيرې به ترې تښتئ او ځئ؟ كه په زرګونو ځلې كوښښ هم وكړئ او په هسې كلكو كلاوو كښې سنګر (مورچه) ونيسئ چه ورونه ئې ترلې وي نو هلته به هم له مرګه نه خلاصيږئ او وروسته له مرګه بيا همغه د الله تعالىٰ عدالت دى او تاسي (ربط) د يهودانو لويه خرابي دا وه چه كتابونه به ئې پر شا ترلي ؤ مګر له هغو څخه نه ګټور (منتفع) كيدل سره له دې چه د دين په ډيرو خبرو باندې ښه پوهيدل خو د دنيوى چارو دپاره هم له هغو ځنې غاړه غړوله . په دنيوى چارو كښې مشغول او منهمك شوى د آخرت د ياد تصور هم له زړونو څخه باسي. له داسي تګ او روش ځنې مونږ مسلمانان منع كړى شوى يو د جمعې د لمانځه تقييد هم داسي دى چه په دغه وقت كښې په دنيوى چارو كښې ښائى بوخت (مشغول) نه شو، بلكه په پوره توجه او چوپيا سره ئې خطبه واورو او لمونځ ئې اداء كړو په حديث كښې راغلي دي «هغه څوك چه د خطبې په وقت كښې خبرې كوى نو دى د همغو خرو يهودانو په شان دى چه پر شا ئې كتابونه بار وي» يعني د ده مثال د يهودانو په شان دى. العياذ بالله.

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ

اې هغو كسانو چه ايمان ئې راوړى دى (يعني اې مؤمنانو) كله چه (اول) اذان وويلى شي دپاره د لمانځه په ورځى د جمعې كښې نو ځغلئ منډې وهئ طرف د ذكر د الله ته او پرېږدئ (بيع ؤ شرى پلورل او پيرودل)

**تفسير:** حضرت شاه صاحب ليكي «د هر اذان حكم داسي نه دى ځكه چه بل جماعت هم مونډل كيږي او د جمعې لمونځ په يوه مسجد كښې اداء كيږي په بل ځاى كښې نه اداء كيږي» او د الله تعالىٰ له ياده څخه خطبه مراد ده او لمونځ د هغه په عموميت كښې داخل دى يعني په داسي وقت كښې ښائى چه مونږ مسجد ته ورشو چه خطبه واورو په دې وقت كښې پلورل او پيرودل (اخستل او خرڅول) حرام دي او له منډې وهلو او ځغليدلو او سعى څخه په پوره اهتمام او استعداد سره ورتګ مطلوب او منډې وهل مراد نه دى

**تنبيه:** په قرآن كريم كښې له (نودى) څخه هغه اذان مراد دى چه د دې آيت د نزول په وقت كښې ؤ يعني هغه اذان چه امام ته مخامخ پخوا له خطبې څخه وركاوه كيږي ځكه چه له دې اذان څخه ړومبنى اذان د سيدنا كامل الحياء والايمان جامع آيات القرآن حضرت عثمان بن عفان

رضی الله تعالیٰ عنه الرحمان په زمانه کښې د صحابه ؤ په اجماع سره مقرر شو لیکن د بیعی په حرمت کښې د دی ورستنی اذان حکم هم په مثل د همغه پخوانی اذان شامل دی ځکه چه د علت په اشتراک کښې د حکم اشتراک هم کیږی ـ هو! په قدیمی اذان کښې به دا حکم قطعی او منصوصی وی ـ او په حادث اذان کښې دا حکم به مجتهد فیه او ظنی وی په دی تقریر سره گرد (تول) علمی اشکالات مرتفع شوی. او هم ښکاره دی وی چه دلته په ﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ﴾ کښې «عام مخصوص منه البعض» دی ځکه چه په اجماع سره پر ځینو مسلمانانو لکه ښځی ـ مریض ـ مسافر ـ بندی او نورو باندی جمعه نه فرضیږی.

ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٩﴾

دا (تگ لمانځه ته) خیر بهتر دیر غوره دی تاسی ته که چیری یئ تاسی چه پوهیږئ (په آخروی نفع او نقصان خپل)

**تفسیر:** ښکاره ده چه د آخروی گټی په مقابل کښې دنیوی فائدی هیڅ یو حقیقت نه لری.

فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِن فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٠﴾

نو هر کله چه اداء کړی شی لمونځ (د جمعی) پس خواره شئ تاسی په ځمکه کښې (خپلو حوائجو ته که ئی لرئ) او ولټوئ تاسی له فضله د الله او یادوئ تاسی الله (په یادولو) دیرو سره ښائیږی چه ومومئ تاسی ښیگڼی (نیکی) خلاصی مراد

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «د یهودانو په نزد د عبادت ورځ د شنبی ورځ وه چه په گردو (تولو) ورځو کښې سود سودا منع وه ـ نو ځکه ئی وفرمایل چه وروسته له لمانځه څخه د روزی په لټولو پسی وگرځئ! او په هغه وقت کښې هم تاسی د الله تعالیٰ له یاده غافل مه اوسئ!

وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انفَضُّوا إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَائِمًا ۚ

قُلْ مَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ مِّنَ اللَّهْوِ وَمِنَ التِّجَارَةِ ۚ وَاللّٰهُ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ⑪

او کله چه ووینی دوی تجارت سوداگری یا کومه لهو تماشا ننداره نو خوریږی دوی په لوری د هغې او پریږدی دوی تا ولاړ (خطبه ویونکی پر منبر) ووایه (ای محمده دوی ته) هغه څه (ثواب) چه په نزد د الله دی خیر ډیر بهتر غوره دی له لهوی تماشی نندارې او له تجارت سوداگرۍ څخه او الله خیر ډیر بهتر غوره له ګردو (ټولو) رزق روزی ورکوونکیو دی.

**تفسیر:** یو ځلی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د جمعې په ورځ خطبه فرمایله چه د سوداګرانو جوپی (قافلی) له د باندی ځنی خواړه او غله راوړه چه له هغه سره د خبرتیا دپاره طبل تغاری او ډمامی هم وهلی کیدی څرنګه چه په ښار کښی غله ډیره لږه وه نو خلقو ورمندی وهلی چه هغه جوپه واړوی ګواکی دوی داسی ګڼل چه د خطبی حکم هم لکه د نورو وعظونو غوندی دی چه په هغو کښی د ضرورت په وقت کښی سړی پاڅیدی شی ـ او بیا لمانځه ته ځان ور رسوی یا به لمونځ شوی وی لکه چه د ځینو قول دی چه په هغه وقت کښی د جمعې لمونځ پخوا له خطبی څخه کیده په هر حال د خطبی احکام لا ښه ښکاره نه ؤ چه خطبه هم د لمانځه په شان ده ډیر خلق لاړل رسول صلی الله علیه وسلم سره له دولسو سړیو چه په هغوی کښی راشده خلفاء هم ؤ. پاتی شول نو په دې نسبت دا آیت رانازل شو ـ یعنی سوداګری او د دنیا لوبی او تماشی څه شی دی هغه ابدی ګټه (فائده) حاصله کړئ! چه له الله تعالیٰ سره ده او د حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحبت او مجلس په برکت او د ذکر او عبادت څخه په لاس راځی. پاتی شوه هغه اندیښنه چه تاسی ته د خوړو او قحط له پلوه پیدا شوی وه او د هغې لامله (له وجې) تاسی ولتیدلئ نو په یاد ئی ولرئ چه رزق روزی د الله تعالیٰ په لاس کښی ده او همغه ډیر ښه روزی ورکوونکی دی او د هغه مالک هیڅ یوه بنده ته نه ښائی چه په دې باره کښی اندیښنه وکړئ وروسته له دې تنبیه څخه د صحابه ؤ شان داسی ؤ چه د (النور) په سورت کښی راغلی دی ﴿ رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ﴾

**تنبیه:** لهو هر هغه شی ته وایه شی چه سړی د الله تعالیٰ له یاده وباسی لکه لوبی ـ ننداری ـ او ښائی چه د هغې طبل تغاری او ډمامی غږ ته لهو ویلی شوی وی.

## تمت سورة الجمعة بفضل الله ومنه وكرمه

سورة المنافقون مدنية وهی احدی عشرة آية وفيها رکوعان
رقمها (٦٣) تسلسلهاحسب النزول(١٠٤) نزلت بعد سورة «الحج»
د «المنافقون» سورت مدنی دی (١١) آيات (٢) رکوع لری په تلاوت کښی (٦٣) او په نزول کښی (١٠٤)
سورت دی وروسته د «الحج» له سورت څخه نازل شوی دی

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ○

شروع کوم په نامه د الله چه ډير زيات مهربان پوره رحم لرونکی دی

إِذَا جَآءَكَ الْمُنٰفِقُونَ قَالُوا نَشْهَدُ إِنَّكَ لَرَسُولُ اللّٰهِ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ إِنَّكَ لَرَسُولُهُ وَاللّٰهُ يَشْهَدُ إِنَّ الْمُنٰفِقِينَ لَكٰذِبُونَ ①

کله چه راشی تاته (ای محمده) منافقان نو وائی دوی (په ژبو خپلو په خلاف د زړونو خپلو داسی چه) شاهدی ورکوو مونږ چه بیشکه ته خامخا رسول د الله ئی (یعنی مونږ ستا پر رسالت له زړه معتقدان یو) او الله ته معلوم دی چه بیشکه ته خامخا رسول د دغه (الله) ئی او الله شاهدی ورکوی په دی چه بیشکه منافقان خامخا دروغجنان دی (په دی شهادت خپل کښی)

**تفسیر:** یعنی منافقان دروغ وائی چه هغوی له زړه ستا په رسالت باندی اعتقاد لری. په رښتیا سره هغوی ستاسی په رسالت قائل نه دی او یوازی د خپلو اغراضو لامله (له وجی) په ژبه سره داسی خبری کوی ـ او پخپلو زړونو کښی وائی چه مونږ دا خبری په دروغو سره وایو. بیا د هغوی دا کذب یوازی په هم دی خبری باندی نه دی منحصر بلکه دروغ بیل د هغوی امتیازی خصلت او شعار ګرځیدلی دی په هره هره خبره کښی له دروغ ویلو څخه کار اخلی لکه چه په هم دی سورت کښی د یوی واقعی ذکر راغلی دی چه په هغی کښی منافقان داسی ورښکاره‌وی چه یو شان ته خبری وکری خو الله تعالیٰ جل شانه واعظم برهانه له آسمانه د هغوی تکذیب کوی.

اِتَّخَذُوٓا أَيْمَانَهُمْ جُنَّةً

نیولی دی دوی قسمونه خپل ډالونه (چه پری ساتی سرؤمال خپل)

**تفسیر:** یعنی په دروغو سره قسمونه خوری چه مونږ مسلمانان یو ـ او د اسلامی مجاهدینو له لاسه د خپلو ځانونو او مالونو د ساتنی دپاره د داسی قسمونو تر سیوری لاندی خپلی شپی او ورځی تیروی. کله چه له دوی ځنی د پوښتنی وړ (لائق) کوم کار څرګندیږی (ښکاریږی) او د مسلمانانو له لوری د مؤاخذی ویره پیدا کیږی نو سم د لاسه دوی په ناحقو قسمونو یادولو باندی شروع کوی.

فَصَدُّوا عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ ۚ إِنَّهُمْ سَاءَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٢﴾

پس اړوی (دوی خلق په دغو قسمونو سره) له لاری د الله څخه (چه جهاد فی سبیل الله دی) بیشکه دوی چه دی بد دی هغه عمل چه دی دوی چه کوی ئی (له قسمونو او دروغو او له اړولو د خلقو له لاری د الله نه)

**تفسیر:** یعنی د اسلام او مسلمانانو په نسبت طعن ـ تشنیع وائی او عیبونه ئی لټوی او د اسلام له ننوتلو څخه نور خلق منع کوی. او خلق هم د دوی په ښکاره مسلمانی باندی غولیږی نو د دوی د دروغو قسمونو ضرر او فساد تر دوی پوری محدود نه پاتی کیږی بلکه نورو ته هم متعدی کیږی نو له دی څخه به لویه خرابی څرنګه وی. خو سره له دی که یو سړی په ښکاره سره د اسلام په ضروریاتو باندی اقرار کوی اګر که په دروغو او فریبو سره هم وی نو اسلام د هغه په وژلو باندی امر نه شی ورکولی.

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا فَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ ﴿٣﴾

دا (بدی د عمل د منافقانو په سبب د دی ده چه) بیشکه دوی ایمان راوړی دی (لساناً) بیا کافران شوی دی (قلباً ټینګ ولاړ په کفر) بیا مهر وهلی شوی دی په زړونو د دوی باندی پس دوی نه پوهیږی په (حقیقت د ایمان باندی چه اقرار باللسان تصدیق بالقلب دی)

**تفسیر:** یعنی په ژبه سره د ایمان دعوی کوی او په زړه کښی له هغوی څخه انکار کوی سره د ایمان د دعوی د کافرانو په شان کارونه کوی د دی بی ایمانی او انتهائی مکر او فریب او دغا اثر داسی شو چه د هغوی په زړونو باندی مهر ولګید چه پر هغوی د ایمان ـ خیر ـ صداقت او امانت ګردی (تولی) لاری وتړلی شوی او هیڅ یو ښه شی په هغه کښی نه ځائیږی . ښکاره ده چه اوس دی حالت ته رسیدلی دی چه له هغوی ځنی د پوهیدلو او په لار راتللو هیڅ یوه هیله

(امید) او توقع نشی کیدی کله چه د سری زړه د بدکاریو او د بی ایمانیو څخه بالکل خراب او مسخ شوی وی بیا نو په دی کښی د ښه او بد پوهیدلو هیڅ صلاحیت نه پاتی کیږی .

وَإِذَا رَأَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ أَجْسَامُهُمْ وَإِن يَقُولُوا تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ

او کله چه ووینی ته دوی په تعجب کښی تا اچوی اجسام جثی بنی د دوی له جهت د ښائست او که خبری کوی دوی اوری غوږ ږدی ته خبرو د دوی ته له جهته د فصاحته او بلاغته

**تفسیر:** یعنی زړه خو مسخ شوی دی مگر که بنی (جسم) ته وکتل شی ډیر ډولی ـ ښائسته ـ روغه رمته لویه درنده ښکاری ، په خبرو اترو کښی ډیر غوږ او ښه غږیږی ـ په فصاحت او بلاغت کښی بی مثال او بی نظیر ښکاری او خامخا د اوریدونکی فکر او توجه ځان ته وراړوی او د هغه د څیری د ظاهری سطحی له لیدلو څخه هر سړی د هغه منلو او باور کولو ته حاضریږی هر چا چه ویلی دی څرنگه ئی ښه ویلی دی

په لیدو ښکاری ښه غوږ .

منځ ئی ډک دی له ککره

له ورا بریښی په څرونکی

له نژدی لیوه خوړونکی

از برون چون گور کافر پر حلل

واندرون قهر خدای عزوجل

از برون طعنه زند بر با یزید

و زدرونش ننگ میدارد یزید

كَأَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ

حال دا چه په واقع کښی گواکی دوی لرگی وچ دی درولی شوی دیوال ته

**تفسیر:** هغه وچ او بیکاره لرگی چه له دیوالونو سره ئی لگولی دروی محض بی ځان او لایعقل او د نشوونما او د ودی څخه بی برخی وی . په لیدلو سره ډیر لوی او پند ښکاری مگر یوه شیبه هم بی له تکیی او استناده نه شی ودریدی. هو یوازی د سوځولو په کار راتلی شی. هم دا حال د دی خلقو دی چی د هغوی ښه شکل او ښائسته جثه او ښکاره ډول ودیل ډیر ښه ښکاری

خو په منځ کښې تش او بې ځان وی او یواځې د دوزخ خس کيدی شي .

يَحْسَبُونَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ

ګڼي دوی هر غږ (هسې چه بلاء راغله) پر دوی باندی

**تفسير:** هسې بزدل ـ نامرد ـ او ويريدونکی دی چه په لږ شورو‌شر سره د هغوی زړونه لړځيږی او داسې ګڼی چه سم د لاسه پر مونږ باندی کومه لويه بلا يا افت راتلونکی دی . د خپلو درنو جرمونو ـ درغليو ـ درغو او خيانت لامله (له وجې) هر کله د هغوی په زړونو کښې دغه ، انديښنه او ويره لويدلی وی او تل په هم دی فکر او انديښنې کښې وی چه چيری ځمونږ د دی دغابازيو او درغليو پته او سراغ چاته ښکاره نشی يا ځمونږ د دی حرکاتو او چارو لامله (له وجې) کومه پيښه راپيښه نشی ! .

هُمُ الْعَدُوُّ فَاحْذَرْهُمْ

هم دوی دی دښمنان (د مؤمنانو) نو ځان وساته ته له دوی څخه

**تفسير:** يعنی لوی ويروونکی دښمنان او غليمان هم دوی دی . د دوی له مکرونو او چالونو څخه تل خبردار شي
او بې غمه او بې انديښنې مه تری کښينئ!

قَاتَلَهُمُ اللَّهُ أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ۝٤

هلاک دی کاندی دوی لره الله څرنګه ګرځولی شوی دی دوی (له سمی صافی لاری نه)

**تفسير:** يعنی وروسته د ايمان له اظهاره دا بې ايمانی ـ او پس له دی نه چه د حق او صداقت په رڼا (رنړا) کښې ننوتلی دی د دوی دا ظلمت ـ تياره خوښول ډير عجيب او حيرانوونکی دی.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُولُ اللَّهِ لَوَّوْا رُءُوسَهُمْ وَرَأَيْتَهُمْ

يَصُدُّونَ وَهُمْ مُّسْتَكْبِرُونَ ۝٥

او کله چه وویل شی دوی ته راشئ (په عذر غوښتلو سره) چه بښنه وغواړی تاسی ته (محمد) رسول د الله تاو کړی دوی سرونه خپل (مخ تری اړوی) او وینی ته دوی چه څنګ کوی (له درتللو نه په خدمت د تا) حال دا چه وی دوی لوئ کوونکی (له توبی او استغفار نه)

**تفسیر:** یعنی که چیری د دی منافقانو کوم شرارت په صاف ډول (طریقه) سره څرګند (ښکاره) شی او د دوی د کذب او د خیانت پرده وشلیږی نو خلق دوی ته وائی اوس لا هم وقت شته ورځئ د حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښی او د هغوی په وسیله د الله تعالیٰ له لوری خپلی بښنی وغواړئ تر څو الله تعالیٰ د رسول الله د استغفار په برکت ستاسی دا خطاوی وبښی نو دوی د لوئ او تکبر او غرور له پلوه خپلی غاړی غړوی ـ او سرونه اړوی او اوګی پورته غورځوی او خپله بی پروائی ښکاروی . بلکه ځینی کمبختان په غوړه ژبه سره وائی چه مونږ ته د رسول الله د استغفار هیڅ ضرورت نشته .

سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ أَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ أَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ۗ لَن يَغْفِرَ ٱللَّهُ لَهُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِي ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ ۝٦

برابر ده پر دوی باندی چه بښنه غواړی ته (ای محمده!) دوی ته او که بښنه نه غواړی ته (ای محمده!) دوی ته له سره به بښنه نه کوی الله دوی ته بیشکه الله نه ښیی سمه صافه لاره قوم فاسقانو نافرمانو ته .

**تفسیر:** یعنی ممکن دی چه تاسی له ډیر رحمت او شفقت د هغوی په موجوده حالت باندی زړه سوی وکړی او هغوی ته بښنه وغواړئ مګر الله تعالیٰ په هیڅ صورت سره هغوی نه بښی او داسی نافرمانانو ته د هغه په لوری د هدایت توفیق نه ورکاوه کیږی هم داسی یو بل آیت د (براءة) په سورت ځمونږ د دغه تفسیر کښی هم راغلی دی د هغه تفسیر دی هلته وکوت شی .

هُمُ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ لَا تُنفِقُوا۟ عَلَىٰ مَنْ عِندَ رَسُولِ ٱللَّهِ حَتَّىٰ يَنفَضُّوا۟ ۗ

دوی هغه کسان دی چه وائی (خپلو ملګرو ته) مه ورکوئ نفقه مه لګوئ تاسی مال په هغه چا باندی چه په نزد د رسول الله دی (له فقراؤ د مهاجرینو) تر څو چه متفرق خواره شی دوی (تری)

**تفسير:** په يو سفر کښې دوه تنه سره په جنګ شول چه يو مهاجر او بل انصاری ؤ ـ هر يوه له دی دواړو څخه خپلو ملګرو ته ورغږ کړ ـ او يوه لويه شخړه (جګړه) تری جوړه شوه کله چه دا خبر د منافقانو مشر عبدالله بن أُبَیّ بن سلول ته ورسيد نو وئ ويل «که مونږ دغو مهاجرينو ته پخپلو کورونو کښې ځای نه ورکولی نو دوی به ولی ځمونږ په مخ کښې داسی پورته کيدل هم دا تاسی بيځ چه د دوی پالنه کوی چه دوی د دی محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم په شاؤ خوا کښې سره ګرځی ـ تاسی د دوی دا خبر اخيستل او پوښتيدل پريږدی . نو دوی د خپلو خوړو له لاسه په تنګ کيږی او ګرد (تول) سره خواره کيږی ـ او د دوی دا تولنه سره تار په تار کيږی » دا ئی هم وويل که مونږ له دی خپل سفره بيرته وګرځيدو ـ او مدينی ته ورسيدو نو ښائی هغه کسان چه د زور او اقتدار خاوندان دی نور سپک ذليل او بی قدر خلق وشړی يعنی مونږ چه مالدار او عزتمندان يو ښائی دا خوار مسلمانان له مدينی څخنی وباسو يو صحابی چه زيد ابن ارقم رضی الله تعالیٰ عنه نوميده کله چه دا خبری ئی واوريدی هغه ئی يو په يو حضرت رسول اکرم صلی الله عليه وسلم ته واورولی رسول الله صلی الله عليه وسلم عبدالله بن أُبَیّ او نور سری خپل مخ ته وروغوښتل ـ او لازمه تحقيقات ئی وفرمايل ـ نو منافقانو په قسم خوړلو باندی شروع وکړه او تولو سره وويل چه دا ګردی (تولی) خبری دروغ دی چه د زيد رضی الله تعالیٰ عنه بن ارقم له لوری ځمونږ په خلاف په دښمنی سره جوړی شوی دی نو خلقو پر زيد رضی الله تعالیٰ عنه باندی په مسخرو شروع وکړه او دی ډير خفه ـ نادم او محجوب ؤ ـ په دی وقت کښې دا آيتونه رانازل شول نو رسول الله مبارک زيد رضی الله تعالیٰ عنه راوغوښت او ورته ئی وفرمايل چه ته د الله تعالیٰ له لوری رښتين شوی .

وَلِلَّهِ خَزَآئِنُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَفْقَهُوْنَ ﴿٧﴾

او خاص الله لره دی خزانی د آسمانونو او د ځمکی وليکن منافقان نه پوهيږی (په رزاقيت د رب العزت)

**تفسير:** يعنی دا احمقان ناپوهان منافقان دومره هم نه پوهيږی چه د ګردو (تولو) آسمانونو او د ځمکو د خزانو مالک الله تعالیٰ دی نو ايا هغه خلق به چه يواځی د هغه د خوښی دپاره د ده د رسول په خدمت کښې سره بوخت (مشغول) دی په لوږه سره وژنی او که خلق په هغوی باندی د خوړو (رزق) ورونه وتړی نو الله تعالیٰ به هم د خپلو خوړو او رزق ور پر دوی باندی وتړی بلکه نه ئی تری رښتيا خو دا ده هغه بندګان چه پر دی اهل الله باندی خپل مالونه لګوی هغه هم پر هغوی باندی پاک پروردګار کوی ـ که د هغه له لوری دوی ته توفيق په برخه نه شی نو په ښو کارونو کښې به يو پول او پيسه ونه لګوی

يَقُولُونَ لَئِن رَّجَعْنَآ إِلَى الْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ ۚ
وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَٰكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٨﴾

وائی منافقان که چیری بیرته وګرځو مونږ طرف د مدینی ته نو خامخا به وباسی هرومرو (خامخا) ډیر عزتمن (کافر خلق له دغی مدینی نه) ډیر خوار کمزور خلق (لره له مؤمنانو) او خاص الله لره دی عزت او غلبه او رسول د ده لره دی او مؤمنانو لره دی ولیکن منافقان نه پوهیږی (په عزت او رزاقیت د ربلعزت).

**تفسیر:** یعنی منافقان په دی باندی نه پوهیږی چه زورور او عزتمن څوک دی ؟ په یاد ئی ولری چه اصلی او ذاتی عزت خو د الله تعالیٰ دی . وروسته له هغه له الله تعالیٰ سره د علاقه لرونکو ذواتو دی چه درجه په درجه د هغه د تعلقاتو له مخی مراتب لری یعنی بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم او د نورو مؤمنانو دی ـ په روایتونو کښی راغلی دی چه عبدالله بن أُبَیّ دا الفاظ چه زوراوران به کمزوران شړی کله چه د هغه ځوی عبدالله بن عبدالله بن أُبَیّ تر غوږ شو چه مخلص مسلمان ؤ نو د خپل پلار په مخ کښی توره په لاس نیغ ودرید او ورته ئی وویل زر شه داسی ووایه چه عزتمن او زورور رسول الله مبارک او د هغوی امتیان دی او ذلیل او سپک زه او ځما ملګری دی که نه اوس به دی سم د لاسه ککره پری کړم او لکه پندوس غوندی به ئی هیسته وغورځوم او ژوندی به دی نه پریږدم چه مدینی منوری ته ننوځی ـ هم دا وه چه پلار ئی د پیغمبر په عزت او پخپل ذلت باندی اقرار وکړ او د خپل ځوی رضی الله تعالیٰ عنه له قهره خلاص شو . د منافقینو له توبیخ او تقبیح څخه وروسته مؤمنانو ته څو هدایتونه ورکړی شوی دی یعنی تاسی په دنیا کښی اخته شوی د الله تعالیٰ له یاد او عبادت څخه مه غافلیږئ لکه چه دا خلق په هغه کښی ککړ شوی دی .

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُلْهِكُمْ أَمْوَالُكُمْ وَلَآ أَوْلَادُكُمْ عَن ذِكْرِ اللَّهِ ۚ
وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَأُولَٰٓئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿٩﴾

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو) مشغول غافل دی نه کړی تاسی مالونه ستاسی او نه اولاد ستاسی له ذکره یاده د الله څخه او هغه څوک چه وکړی دا کار نو هم دغه کسان هم دوی دی زیانکاران (چه بی

برخی شول له باقی شخه په غوره کولو د فانی)

**تفسیر:** یعنی هر سړی ته دا لوی زیان دی چه باقی دولت پرېږدی او په فانی پسی وردرومی ـ او له اعلیٰ ځنی مخ اړوی او په ادنیٰ کښی پریوځی . همغه مال او اولاد ښه ګانه شی چه سړی د الله تعالیٰ له یاده نه غافلوی او د آخرت له کاره ئی نه وباسی ـ که کوم سړی په دی شیانو کښی داسی اخته کیږی او له الله تعالیٰ څخه غافلیږی نو آخرت ئی له لاسه ووت او د دنیا په جنجالونو کښی هسی کیووت چه هغه ته به د زړه ډاډینه (سکون) او اطمینان هیڅ په نصیب کښی نه وی

﴿ وَمَنۡ اَعۡرَضَ عَنۡ ذِكۡرِیۡ فَاِنَّ لَهٗ مَعِيۡشَةً ضَنۡكًا وَّنَحۡشُرُهٗ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ اَعۡمٰى ﴾

وَاَنۡفِقُوۡا مِنۡ مَّا رَزَقۡنٰكُمۡ مِّنۡ قَبۡلِ اَنۡ يَّاۡتِىَ اَحَدَكُمُ الۡمَوۡتُ فَيَقُوۡلَ رَبِّ لَوۡلَاۤ اَخَّرۡتَنِىۡۤ اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيۡبٍۙ فَاَصَّدَّقَ وَاَكُنۡ مِّنَ الصّٰلِحِيۡنَ ۝١٠ وَلَنۡ يُّؤَخِّرَ اللّٰهُ نَفۡسًا اِذَا جَآءَ اَجَلُهَا ؕ

او نفقه کړئ ـ ولګوئ تاسی له هغو مالونو څخه چه درکړی مو دی تاسی ته پخوا له هغه ځنی چه راشی یو ستاسی ته (اسباب) د مرګ (او پریوځی له مبرات او خیرات) نو وبه وائی ای ربه ځما ولی دی وروستی نه کړ ما لره (یعنی څه به وشی که تاخیر کړی موت) تر اجل نیتی نژدی پوری چه صدقه خیرات وکړم زه او شم زه له صالحانو نیکانو څخه (په موندلو د مافات سره نو فرمائی الله) او له سره به نه وروستی کوی الله هیڅ نفس لره (له مرګه) کله چه راشی نیته ئی

**تفسیر:** دا ښائی د منافقانو د دی وینا جواب وی چه ﴿ لَا تُنۡفِقُوۡا عَلٰى مَنۡ عِنۡدَ رَسُوۡلِ اللّٰهِ ﴾ الآیة ـ دی یعنی په خرڅ کولو کښی ستاسی ښه ده هر څه خیرات او صدقات مو چه له لاسه پوره وی هغه ژر تر ژره هم دا اوس وکړئ ـ که نه موت او مرینه مو پر سر رسیدونکی ده نو هلته به افسوس او ارمان کوئ چه ولی مو څه د الله تعالیٰ په لاره کښی ونه لګول ؟ کله چه مرګی د شوم او بخیل په سر باندی راځی نو هلته دی ارزو او تمنا کوی چه ای الله تعالیٰ ! څو ورځی نور می په مرګ کښی ډیل او معطلی وفرمایه ! چه زه ښه خیرات صدقات ورکړم ـ او ځان ښه سنبال کړی په اصلاح او توبه سره راشم . خو هلته به کله مهلت ورکاوه کیږی هر سړی لره هومره عمر او نیته او میعاد چه تاکلی (مقرر) شوی دی د هغه د پوره کیدلو څخه وروسته د

یوی لحظی دپاره هم په هغه کښی څه ډیل او تاخیر پیښیدونکی نه دی .
**تنبیه:** له ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه څخنی منقول دی چه هغه دا غوښتنه او تمنا د قیامت په ورځ باندی حمل کوی او وائی چه بخیلان به د قیامت په ورځ کښی داسی ارزو او ارمان کوی چه کاشکی زه بیا د څه مدت له مخی دنیا ته ورشم او هلته ښه خیراتونه وکړم او ښی چاری وکړم او بیا په ښه اصلاح او توبی سره دلته راشم .

وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۝۱۱

او الله ښه خبردار دی په هغه څه (ښه او بد) چه کوی ئی تاسی(نو جزا به پری درکړی) .

**تفسیر:** یعنی هغه الله تعالیٰ ته دا خبره هم ښه ورمعلومه او ښکاره ده ـ که بالفرض ستاسی مرګ ملتوی کړی یا مو له محشره د دنیا په لوری بیرته وروليږی نو هلته به بیا څرنګه چاری وکړئ ؟ هغه ته ګردی (تولی) پټی او ښکاره خبری معلومی او ښکاره دی او ستاسی پر ګردو (تولو) استعداداتو ـ او ظاهری او باطنی اعمالو احوالو ، اقوالو ، نیاتو افکارو باندی ښه خبردار دی او سم له هغه سره به له تاسی سره معامله او تګ کوی .

## تمت سورة المنافقون بفضل الله تعالیٰ

سورة التغابن مدنية وهی ثمانیعشرة آية وفيها رکوعان رقمها(٦٤) تسلسلهاحسب النزول (١٠٨)
نزلت بعد سورة التحريم
د «التغابن» سورت مدنی دی (١٨) آیت دوه رکوع لری .
په تلاوت کښی (٦٤) او په نزول کښی (١٠٨) سورت دی وروسته د «التحريم» له سورت څخه نازل شوی دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ ۚ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ

الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ① هُوَ الَّذِي خَلَقَكُمْ فَمِنكُمْ كَافِرٌ وَمِنكُم مُّؤْمِنٌ ۚ

نسبت د پاکی کوی الله ته هر هغه څه چه په آسمانونو کښې دی له علویاتو سره له آسمانونو او هر هغه څه چه په ځمکه کښې دی له سفلیاتو سره له ځمکی خاص هم دغه (الله) لره دی ملک باچائی (د تول جهان) او هم ده لره توله ثناء ستاینه (صفت) ده او هم دغه (الله) په هر څیز باندی (چه اراده وفرمائی) ښه قادر دی . هم دغه (الله) هغه ذات دی چه پیدا کړی ئی یئ تاسی ځینې له تاسی کافر دی (په اصل خلقت کښې) او ځینی له تاسی مؤمن دی (په اصل خلقت او پیدایښت کښې).

**تفسیر:** د هر چا حکومت او تولواکی (باچاهی) چه په دنیا کښې لیده کیږی په حقیقت کښې هغه د الله تعالیٰ سلطنت او تولواکی (باچاهی) ده . او د هر سری چه ستائنه (صفت) او تعریف کاوه شی هغه په واقع سره د همغه الله تعالیٰ حمد ، ثناء او ستاینه (صفت) ده . هم دغه پاک الله تعالیٰ ځمونږ او د ګردو (تولو) مخلوقاتو خالق او پیدا کوونکی دی او ښائیږی چه ګردو (تولو) به په ده باندی ایمان راوړی وی او د هغه حقیقی منعم اطاعت به ئی کړی وی مګر ځینی کسان منکران شول او ځینی ایمانداران وګرځیدل بیشکه چه الله تعالیٰ هر سری ته داسی یو قوت او استعداد وربښلی دی چه د هر لوری د حرکت او د تګ قوت پکښې شته الله تعالیٰ ړومبی ګرد (تول) خلق په صحیح فطرت سره پیدا کړل بیا ځینی پخپل همغه صحیح فطرت باندی تینګ پاتی شول ـ او ځنی نور له شاوخوا له حالاتو څخه متاثر شو ـ خلاف له هغه څخه واوښتل او بله لیاره ئی غوره کړه چه الله تعالیٰ لره له پخوا د هم دی دواړو احوال ښکاره ؤ او پوهیده چه کوم سری پخپلی ارادی او اختیار سره به کوم لوری ته ځی ؟ او بیا به سم له هغه سره د سزا یا د انعام وړ (لائق) او مستحق ګرځی دا خبری له خپلی پوه سره سم د ده په قسمت کښې لیکلی دی او تاکلی (مقرر کړی) ئی دی چه هغه به داسی کیږی . د الله تعالیٰ محیط علم د دی مستلزم نه دی چه په دنیا کښې بله کومه اراده ـ اختیار ـ قوت او قدرت پاتی نشی دا مسئله دیره دقیقه ده او مونږ پر دی باندی د یو ځان ته مضمون د لیکلو اراده کړی ده . **والله الموفق والمعین**

وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ② خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ ۖ وَإِلَيْهِ الْمَصِيرُ ③

او الله په هغه څه چه کوئ تاسی ښه ليدونکی دی (نو جزا به درکړی) پيدا کړی ئی دی آسمانونه او ځمکه په تدبير حق سره او صورتونه ئی ترلی دی ستاسی بيا ئی ښه ښائسته کړی دی صورتونه ستاسی (په امتداد د قامت او په اعتدال د خلقت سره) او هغه (الله) ته بيرته ورتلل دی ستاسی (دپاره د جزاء)

**تفسير:** په ګردو (تولو) ساکښانو (ذی روحو) کښی د انسان خلقت ښه دی په ليدلو کښی دير ښه ښکاری . پخپلو ملکاتو او قواؤ کښی هم له ګرد (تول) عالم څخه لوړ (اوچت) غوره او ممتاز دی بلکه د تولو ښو مجموعه ده نو ځکه صوفيه د انسان وجود ته «عالم صغير» وائی امام قشيری رحمة الله عليه فرمائی چه د انسان ظاهر الله تعالیٰ مزين کړی دی په کمال د قدرت خپل سره او باطن ئی مزين کړی دی په جمال د قربت سره . **فتبارک الله احسن الخالقين والحمدلله رب العٰلمين .**

يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعْلِنُونَ ۚ وَاللّٰهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٤﴾ أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَؤُا الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَبْلُ فَذَاقُوا وَبَالَ أَمْرِهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٥﴾

ښه معلوم دی دغه (الله) ته هغه څه چه په آسمانونو او په ځمکه کښی دی او ښه معلوم دی دغه (الله ته) هغه څه چه پټوئ تاسی او هغه څه چه ښکاره کوئ ئی تاسی او الله ته ښه معلوم دی هغه پټی خبری چه په سينو زړونو ستاسی کښی دی ايا نه دی راغلی تاسی ته ای منکرانو خبر د هغو کسانو چه منکران شوی دی پخوا له دی نه پس وئی څکل وبال سزا د کار خپل او شته دوی ته (په عقبیٰ کښی بی انتهاء) عذاب دردناک

**تفسير:** يعنی له تاسی څخه پخوا دير قومونه لکه عاد او ثمود او نور هلاک شوی دی او د آخرت عذاب جلا (جدا) دی دا خطاب د مکی مکرمی هستيدونکيو دپاره دی .

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُۥ كَانَت تَّأْتِيهِمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَقَالُوٓا۟ أَبَشَرٌ يَهْدُونَنَا فَكَفَرُوا۟ وَتَوَلَّوا۟

دا (عذاب دوی ته) د دی دپاره دی چه ؤ به دوی چه راتلل به دوی ته رسولان د دوی په ښکاره و دلائلو (د قدرت ځمونږ) سره نو ویل به دوی (تعجباً وتمسخراً) چه ایا بشر سری (لکه مونږ) لاره ښیی مونږ ته بیا به کافران شول (په رسولانو) او مخونه به ئی وګرځول (له دلائلو د قدرت ځمونږ نو هلاک به کړل دوی لره الله)

**تفسیر:** یعنی ځمونږ غوندی پر یوه سری باندی ئی د لاری ښوونی او د هادی نوم ایښی او هغه ئی مونږ ته رالیږلی دی ؟ که مونږ ته هادی لیږونکی ؤ نو ښائی پرښته ئی رالیږلی وی ګواکی د دوی په نزد د بشریت او رسالت په منځ کښی منافات ؤ نو ځکه هغوی خپلو ځانونو ته کفر غوره کړ او د پیغمبرانو د خبرو له منلو څخه ئی مخ واړاؤ .

**تنبیه:** له دی آیت ځنی دا خبره ثابتول چه رسول ته (بشر) ویل کفر دی انتهائی جهل او الحاد دی . پرته (علاوه) له دی څخه که څوک ووائی چه دا آیت د هغو سړیو په جهل او کفر باندی دلالت کوی چه د پیغمبرانو له بشریت څخه انکار کوی نو دا دعوی د پخوانیو دعوو څخه زیاته قوی ده .

وَّٱسْتَغْنَى ٱللَّهُ ۚ وَٱللَّهُ غَنِيٌّ حَمِيدٌ ۝٦

او بی پروا غنی دی الله (له ایمان د خلقو) او الله غنی بی پروا دی (له عبادت) او ډیر ستایلی شوی دی (بی له ستایلو د خلقو)

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ څه پروا ده که هغوی مخ واړوی ـ یا غاړه وغړوی نو الله هم له هغوی ځنی د خپل رحمت نظر اړوی

زَعَمَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَن لَّن يُبْعَثُوا۟ ۚ

دعوی کوی هغه کسان چه کافران شوی دی چه له سره به بیا ژوندی راپورته نه کړی شی دوی

**تفسیر:** هم هغسی چه دغه کفار پخپل زعم د انبیاؤ له رسالت څخه انکار کوی د بعث بعدالموت ځنی هم انکار کوی .

قُلْ بَلٰى وَرَبِّیْ لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ ۭ وَذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ۝

ووایه (ای محمده دوی ته چه) هو بیا به ژوندی راپورته کړی شئ قسم دی په رب ځما چه خامخا ژوندی پورته به کړل شئ هرومرو (خامخا) تاسی (پس له مرګه) بیا خامخا خبر به کړی شئ تاسی هرومرو (خامخا) په هغه څه چه کړی دی تاسی په دنیا کښی او دا (ژوندی پاځول جزاء ورکول) په الله باندی دیر اسان دی .

**تفسیر:** یعنی د دوهم ځلی بیا ژوندی کول او د ګردو (تولو) حساب ، کتاب اخیستل الله تعالیٰ ته کوم سخت او ګران او مشکل کار نه دی پوره یقین ولری ، چه دا کار ضرور کیدونکی دی د چا له انکار کولو څخه هغه تاکلی (مقرر کړی) شوی کار هیڅ وړاندی وروسته نه کیږی نو ځکه ښائی چه تاسی انکار پریږدی ، او د هغی ورځی په فکر کښی ولویږئ .

فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَالنُّوْرِ الَّذِیْٓ اَنْزَلْنَا ۭ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۝٨

نو ایمان راوړئ په الله او په رسول د ده (محمد) باندی او په هغی رڼا (رڼړا) (قرآن) باندی چه نازل کړی دی مونږ او الله په هغه څه چه کوئ ئی تاسی ښه خبردار دی (نو جزاء به درکړی) .

**تفسیر:** یعنی ایمان سره عمل هم یو ضروری شی دی .

يَوْمَ يَجْمَعُكُمْ لِيَوْمِ الْجَمْعِ ذٰلِكَ يَوْمُ التَّغَابُنِ ۭ

(یاده کړه) هغه ورځ چه راجمع به کړی (او خبر به درکړی الله) تاسو لره په ورځ د جمع کیدلو (قیامت) کښی دا (ورځ چه ده) ورځ د نفعی او نقصان ده( چه مؤمنان جنت ته ځی او کافران په دوزخ کښی لویږی او غبن ئی ظاهریږی یا ځینی نیکان به هم په سبب د تقصیر د نیکی او د احسان خپل زیان وینی)

**تفسیر:** یعنی دوزخیان به پره کیږی او جنتیان به کامیابیږی . پره کیدل دا چه هغوی به د الله تعالیٰ ورکړی قوتونه بی ځای لګولی وی ، رأس المال او پنګه (سرمایه) به ئی هم له لاسه وتلی

وی . بری دا چه د لویی فائدی په بدل کښی په زرهاؤ ښه مومی . اوس د هم دی خبری لږ څه تفصیل داسی راځی چه

وَمَن يُؤْمِن بِاللَّهِ وَيَعْمَلْ صَالِحًا يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّئَاتِهِ

او هغه چه ایمان راوړی په الله او وکړی عمل نیک لری به کړی (الله) له ده څخه بدی د ده

**تفسیر:** یعنی هغه تقصیرات چه شوی وی د ایمان او ښو کارونو له برکته معاف او ښنلی کیږی .

وَيُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۚ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ⑨

او داخل به کړی (الله) دغه (صالح مؤمن) په هغو جنتونو کښی چه بهیږی له لاندی (د ونو او مانیو) د هغو (څلور قسمه) ویالی تل به وی دوی په هغه کښی ابدی همیشه دغه (مغفرت او جنت) بری خلاصی ډیر لوی دی .

**تفسیر:** یعنی هر څوک چه جنت ته ورسیږی تول مرادونه ئی په لاس ورځی ځکه چه جنت د الله تعالیٰ د لیدلو او د هغه د رضاء موندلو ځای دی .

وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ خَالِدِينَ فِيهَا ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ⑩ مَا أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ ۗ وَمَن يُؤْمِن بِاللَّهِ يَهْدِ قَلْبَهُ ۚ

او هغه کسان چه کافران شوی دی او نسبت د دروغو کوی آیتونو ځمونږ ته دغه کسان دی یاران ملګری د دوزخ تل به وی دوی په هغه (دوزخ) کښی او بد ځای د ورتللو دی (دا دوزخ) نه رسیږی هیڅ مصیبت غم درد هیچاته مګر خو (رسیږی) په اذن حکم د الله سره او هغه څوک چه ایمان ئی راوړی

دی په الله باندی لیاره ښیی (الله) زړه د ده ته (د صبر او ثبات)

**تفسیر:** په دنیا کښی هیڅ یوه سختی او مشیت بی د الله تعالیٰ له رضاء ـ مشیت او ارادی څخه نه رسیږی کله چه مؤمنان په دی خبره باندی یقین او باور لری نو نه ښائی چه په هغه باندی خفه شی ـ بلکه په هر وقت او په هر حال باندی د هغه په فیصلی باندی رضاء وی او تل دی هسی وینا وکړی .

نه شود نصیب دشمن که شود هلاک تیغت
سر دوستان سلامت که تو خنجر ازمائی

هم داسی الله تعالیٰ مؤمنانو ته د صبر او د تسلیم لاری ورښیی چه د هغه له برکته پر دوی باندی د عرفان او ایقان ګرد (تول) ورونه پرانیستل کیږی او عجیبی او غیبی ښوونی او فائدی په برخه شی ـ او له باطنی کیفیاتو او قلبی ترقیاتو څخنی ګټور او خوندور کیږی .

وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيْمٌ ﴿١١﴾

او الله په هر څیز باندی ښه عالم دانا دی (پر شاکرانو صابرانو) .

**تفسیر:** یعنی هغه تکلیف او مصیبت چه د الله تعالیٰ له لوری رارسیږی د هغه عین علم او حکمت دی همغه الله تعالیٰ ته ښه معلوم دی چه کوم یو له مونږ څخنی د واقعی صبر تسلیم او رضاء په سمه لاره ځی؟ او د چا زړه د کومو احوالو او کیفیاتو د مورد ګرځیدلو وړ (لائق) دی ؟

وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ۚ فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاِنَّمَا عَلٰى رَسُوْلِنَا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿١٢﴾

او حکم ومنئ تاسی د الله او حکم ومنئ تاسی د رسول (د دغه الله) پس که مخ وګرځوه تاسی (له طاعته نو د تاسی نقصان دی رسول ته څه زیان نه رسیږی ځکه چه) نو بیشکه په رسول ځمونږ باندی رسونه ښکاره دی (او خپل تبلیغ ئی کړی دی).

**تفسیر:** یعنی په نرمی ـ سختی ـ تکلیف ـ راحت او په هر صورت کښی د الله تعالیٰ او د هغه د

رسول حکم ومنئ ! که نه ستاسی خپل نقصان دی رسول الله صلی الله علیه وسلم خو تاسی ته تول ښه او بد درپوهولی دی او خپل فرض ئی ادا کړی دی او الله تعالیٰ ته ستاسی له اطاعت یا معصیت څخه هیڅ یو ضرر یا گټه (فائده) نه وررسیږی .

اَللّٰهُ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَؕ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۳﴾

الله (یو دی) نشته هیڅوک وړ (لائق) د عبادت مگر خو هم دی دی او خاص یواځی پر الله باندی پس توکل دی وکړی مؤمنان (چه د ایمان اقتضاء هم دا ده چه مؤمنان دی خپل کار الله ته وسپاری)

**تفسیر:** یعنی معبود او مستعان یواځی د الله تعالیٰ لوی ذات دی بل څوک د بندگی او د هیلی او د اسری وړ (لائق) نه دی .

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنَّ مِنْ اَزْوَاجِكُمْ وَاَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا لَّكُمْ

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو) بیشکه ځینی له ښځو ستاسی او (ځینی له) ځامنو ستاسی دښمنان دی تاسی لره

**تفسیر:** ډیر ځلی داسی کیږی چه سړی د ښځی او ځامنو په مینه او محبت کښی داسی اخته کیږی چه د الله تعالیٰ له یاده غافلیږی او د داسی تعلقاتو لامله (له وجی) نور ډیر خراب کارونه هم کوی او له ډیرو ښو څخه بی برخی پاتی کیږی د ښځی او اولاد غوښتنی او د هغوی خوښ ساتل هیڅ کله دی نه پریږدی چه بل شی ته خپل فکر واړوی ، د آخرت فکر تری هیریږی کله چه آل او عیال د سړی د داسی ضرر او نقصان سبب وگرځی هغه ئی دوستان نه بلل کیږی بلکه داسی دښمنان دی چه سړی د دوی د دی دښمنی احساس نشی کولی نو ځکه الله تعالیٰ مو ویښوی چه ځانونه مو له داسی دښمنانو څخه ساتئ ! او له هسی چارو څنی لری گرځی چه د هغو په وسیله دنیا تاسی ته ډیره ښه ښکاره شی او آخرت مو له یاده ووځی او د دنیا لامله (له وجی) مو دین له لاسه وران شی . ولی داسی نه دی چه په دنیا کښی گردی (تولی) ښځی یا توله اولاده او خپلوان هسی وی چه سړی د آخرت له یاده غافلوی بلکه ځینی بختوری ښځی او هلکان داسی هم وی چه له خپلو میړو (خاوندانو) او پلرونو سره د هغوی د دین په حفاظت کښی مرستی(مدد ) کوی او په ښو چارو کښی هغوی ته لار ښوونه او لاس نیونه کوی او هغوی ته عابدی ښځی نعم الصاحبات او نیک مرغی اولاده باقیات الصالحات گرځی **(جعلنا الله منهم بفضله ومنه)** .

فَاحْذَرُوهُمْ ۚ وَإِن تَعْفُوا وَتَصْفَحُوا وَتَغْفِرُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٤﴾

نو ځان وساتئ تاسی له دوی ځخه (په مقابل د حکم د الله او د دوی لحاظ مه کوئ) او که عفوه او گزشت وکړئ تاسو او مخ وگرځوئ تاسو او مغفرت وکړئ تاسی پس بیشکه الله ښه مغفرت کوونکی (د خطیانو) ډیر رحم والا دی (په انعام د اجر او ثواب سره)

**تفسیر:** یعنی که دوی له تاسی سره دښمنی وکړه ـ او تاسی ته دینی یا دنیوی زیان ورسید نو د هغه اثر او اغیزه به داسی کیږی چه تاسی به په انتقام او کسات (بدل) پسی لویږی ـ او پر هغوی باندی به نامناسبه سختتی شروع کوئ ـ نو له داسی کولو ځخه به د دنیا انتظام خرابیږی تر هغه ځایه پوری چه عقلاً او شرعاً گنجائش وی له هسی حماقتونو ، تقصیراتو ځنی تیریږئ او بښئ انتقام او کسات پسئ مه گرځئ ! چه په داسی مکارمو اخلاقو سره به الله تعالیٰ پر تاسی باندی مهربانی کوی او ستاسی خطاوی بښی

إِنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ۚ وَاللَّهُ عِندَهُ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿١٥﴾

بیشکه هم دا خبره ده چه مالونو ستاسی او اولاد ستاسی یوه فتنه ازموینت دی او الله چه دی په نزد د ده دی اجر ثواب ډیر لوی .

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ تاسی ته مال او اولاد درکوی ـ او تاسی پری ازمویی چه کوم یو له تاسی ځخه په داسی فانی او زائلو شیانو کښی اخته کیږی ؟ او کوم یو له تاسی ځنی د فانی شیانو د خپل آخرت پنگه (سرمایه) او ذخیره گرځوی ؟ او د آخرت ډیر لوی اجر او ثواب د دی ځای پر حظوظو او مالونو باندی ښه بولی او ترجیح ورکوی ؟ او د آخروی باقی او غیر فانی نعمتونه هیروی او په بدل ئی دغه زائل او فانی شیان اخلی ؟.

فَاتَّقُوا اللَّهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَاسْمَعُوا وَأَطِيعُوا وَأَنفِقُوا خَيْرًا لِّأَنفُسِكُمْ ۗ

نو وویریږئ تاسی له الله خومره چه توانیږئ تاسی واورئ (خبری د الله په سماع د قبول سره) او اطاعت کوئ (د احکام الله) او نفقه کوئ لگوئ ښه شیان دپاره (د نفعی) د ځانونو خپلو

**تفسير:** یعنی تر څو مو چه له وسه کیږی له الله تعالیٰ څنی وویریږئ او په دی امتحان او ازموینه کښی ثابت قدم اوسئ ! او د هغه احکام واورئ ! او عمل پری وکړئ !.

وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿١٦﴾

او هغه چه وساتلی شو له حرص بخیلی د نفس خپل څخه نو دا کسان هم دوی دی بریالیان (کامیاب) په مراد رسیدلی (له عذابه په دواړو دارینو کښی)

**تفسير:** یعنی د الله تعالیٰ په لاره کښی به له نفقه کولو او له مال لګولو څخه ستاسی خپلی ښیګڼی (فائدی) کیږی . او همغه سړی بریالی (کامیاب) او په مراد رسیږی چه الله تعالیٰ د هغه زړه له دی اندیښنی غوښتنی څنی پاک ساتلی وی او حرص ـ بخل ـ طمع او کنسکی (شومتیا) لار پکښی ونه لری ! .

إِن تُقْرِضُوا اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا يُضَاعِفْهُ لَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۚ

که چیری قرض پور (قرض) ورکړئ تاسی الله لره (په هغه څه چه فرمائلی دی) قرض پور نیک (په محبت او اخلاص سره) نو دوچنده به کړی (الله ثواب د) هغه (پور) تاسی ته او مغفرت به وکړی (الله) تاسی ته .

**تفسير:** یعنی د الله تعالیٰ په لاره کښی په اخلاص او نیک نیت سره له خپل حلال او طیب مال څنی صرف کړی او وئ لګوئ ! تر څو الله تعالیٰ تاسی ته څو چنده له هغه څنی زیات ثواب درکړی او ستاسی ګردی (تولی) خطاوی او تجاوزات وبښی هم داسی یو مضمون پخوا له دی څخه هم تیر شوی دی پوره تقریر دی هلته وکوت شی .

وَاللَّهُ شَكُورٌ حَلِيمٌ ﴿١٧﴾

او الله ښه قدردان دی ښه تحمل والا دی (چه لږ قبلوی او ډیر ورکوی) .

**تفسير:** د قدر پیژندلو خبره دا ده چه په لږ عمل سره ډیر ثواب ورکوی او تحمل ئی دا دی چه د ګناه په لیدلو سره سم د لاسه عذاب نه مقرروی . بیا هم د ډیرو ګناهګارانو جرم بښی او د ډیرو په سزا تخفیف کوی .

عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿١٨﴾ ع

عالم پوهيدونکی د پټ او ښکاره دی ښه غالب قوی دی ډير حکمت والا دی

**تفسير:** يعنی الله تعالیٰ په ښکاره کارونو او پټو نيتونو باندی عليم او خبير ښه دانا او بينا دی او سم د خپل زبردست قوت او حکمت سره هر چاته بدل ورکوی

**تمت سورة التغابن بفضل الله تعالیٰ ومنه ولله الحمد والمنة**

سورة الطلاق مدنية وهی اثنتاعشرة آية وفيها ركوعان
رقمها (٦٥) تسلسلهاحسب النزول (٩٩) نزلت بعد سورة الإنسان
د «الطلاق» سورت مدنی دی (١٢) آيت (٢) رکوع لری په تلاوت کښی (٦٥)
او په نزول کښی (٩٩) سورت دی وروسته د «الإنسان» له سورته نازل شوی دی

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډير زيات مهربان پوره رحم لرونکی دی

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ

ای نبی (ووايه امت خپل ته) کله چه اراده وکړئ طلاقوئ تاسو ښځی (خپلی چه مدخول بهاوی او صغيره آيسه حامله نه وی) نو طلاقوئ په (وقت د) عدت د دوی کښی (په طهر کښی چه خالی له جماع وی)

**تفسير:** اگر که دلته مخاطب نبی صلی الله عليه وسلم دی مگر په واقع کښی گرد (تول) امت مخاطب دی . يعنی کله چه کوم سری بيا په کوم ضرورت يا د مجبوريت له کبله (وجی) د خپلی ښځی د طلاق ورکولو اراده وکری . نو ښائی چه هغه دی په عدت سره طلاق ورکری . (البقرة) سورت کښی راغلی دی چه د مطلقی عدت دری حيضه دی لکه چه هم دا ځمونږ د حنفيانو مذهب دی نو ځکه له حيض څخه پخوا د طهر په وقت کښی ښائی طلاق ورکړ شی تر څو تول حيض پر شمير کښی راشی فرض ئی کړئ که د حيض په وخت کښی طلاق ورکوی نو هغه حيض چه طلاق پکښی ورکری شوی وی له دوو حالتو څخه خالی نه دی په عدت کښی

شمیرلی کیږی ؟ یا نه. که هغه د حیض ورځی په عدت کښی شمیرل کیږی نو طلاق د ایقاع ځخه پخوا هومره مدت د حیض چه تیر شوی وی هغه له عدت ځنی لرېږی ؟ او پوره دری حیضه د عدت دپاره پاتی کیږی . او که ئی نه وی شمیرلی کله چه پرته (علاوه) له موجوده حیض ځخه دی نور دری حیض ښائی وګوری او دا حیض ئی له هغو دری حیضو ځخه زیات وی . نو ځکه مشروعه طریقه دا ده چه په طهر کښی دی طلاق ورکړی شی او له احادیثو ځخه هم دا قید ثابتیږی چه په هغه طهر کښی چه کوروالی او صحبت پکښی نه وی شوی ښائی میړه (خاوند) خپلی ښځی ته طلاق ورکړی

## وَأَحۡصُواْ ٱلۡعِدَّةَۖ

او وشمیرئ وساتئ تاسو عدت (د ښځو خپلو)

**تفسیر:** نارینه او ښځی دواړه ته ښائی چه دا خبره په یاد ولری چه چیری د غفلت او سهوی په وسیله له دوی ځنی کومه سهوه او بی احتیاطی ونشی او څه لاندی باندی په منځ کښی رانشی او هم ښائی چه طلاق داسی ورکړ شی چه د عدت په شمیر کښی هیڅ شانی ډیروالی او لږوالی رانشی لکه چه په پاس تفسیر کښی وویل شو

## وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ رَبَّكُمۡۖ لَا تُخۡرِجُوهُنَّ مِنۢ بُيُوتِهِنَّ

او وویریږئ تاسو له الله چه رب (پالونکی) د تاسی (دی) مه وباسئ (ای میړو «خاوندانو» ) دغه (ښځی خپلی) له کورونو خپلو ځخه (چه پکښی اوسی دوی تر هغه پوری چه ئی تیر شی عدت)

**تفسیر:** یعنی له الله ځخه وویریږئ او په شرعیه ؤ احکامو باندی پابندی ولرئ لـ چه له هغو ځخه یو حکم دا دی چه د حیض په حالت کښی دی طلاق ور نه کړ شی ! او دری طلاق دی یو ځای ور نه کړ شی ! او مطلقه ښځه دی له کوره د باندی ونه ایستله شی ! او د دی په شان د الله اکرم شانه واعظم برهانه نوری ښوونی هم په اخلاص سره منئ !

## وَلَا يَخۡرُجۡنَ إِلَّآ أَن يَأۡتِينَ بِفَٰحِشَةٖ مُّبَيِّنَةٖۚ

او نه دی وځی دغه (ښځی هم پخپله له کورو نه تر څو چه عدت د دوی تیر شی) مګر هلته چه راشی دوی په فاحشه بی حیائی ښکاره سره (لکه زناء)

**تفسیر:** یعنی ښځی دی پخپله خوښه هم نه وځی ځکه چه دا سکنی محض حق العبد نه دی چه د هغه په رضاء سره ساقطه شي بلکه حق الشرع دی هو! که ښځه کومه ښکاره بی‌حیائی وکړی ـ یا په بدو چارو ځغرد (ضد) وکړی یا د غلا مرتکبه شي یا د ځینو علماؤ په قول ژبه وکړی ـ یا تل په جنګ جنجال او جګړه کښې لګیا وی او بې له غمه او خفګانه ئې بل کار نه وی نو ایستل ئې روا دی که دا ښځه بې‌موجبه له کوره ووځی نو دا په خپله د دی د صریحی بی‌حیائی یو کار دی !.

وَتِلْكَ حُدُودُ اللّٰهِ ۚ وَمَنْ يَّتَعَدَّ حُدُودَ اللّٰهِ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهٗ ۚ

او دا (احکام) حدود اندازه کړی شوی د الله دی او هر هغه چه تیریږی له حدودو د الله ځخه نو په تحقیق ظلم ئی کړی دی په ځان خپل باندی

**تفسیر:** یعنی ګناهګار شوی دی د الله تعالیٰ په نزد د سزا موجب وګرځید.

لَا تَدْرِيْ

نه پوهیږی (ته ای طلاق کوونکیه ! یا نه پوهیږی هیڅ نفس)

**تفسیر:** د لاندی ترجمه شیخ الهند رحمة الله علیه په نه پوهیږی سره چه د غائب مؤنث صیغه ده کړی ده چه «نفس ته» راجع شي چه سماعی مؤنث دی او تری ښکاره شي چه دا خطاب طلاق ورکوونکی ته دی نه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته

لَعَلَّ اللّٰهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذٰلِكَ اَمْرًا ①

ښائی چه الله پیدا کړی وروسته له دی طلاق کوم ښه کار او نوی صورت لکه رجوع له طلاقه .

**تفسیر:** یعنی ښائی چه بیا د دواړو په منځ کښې روغه او صلحه وشی او په طلاق باندی پښیمان او نادم شی

فَاِذَا بَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَاَمْسِكُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ فَارِقُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ

بیا نو کله چه ورسیږی دغه (ښځی) نیتی خپلی ته نو وساتئ (تاسی ای میړو «خاوندانو») دوی په معروف نیکی ښه شان سره یا جلا (جدا) شئ تاسی له دوی ځنی په معروف نیکی ښه شان سره

**تفسیر:** یعنی په رجعی طلاق کښی کله چه عدت ختمیدلو ته نژدی شی نو تاسی لره له دوو چارو ځخه د یوی چاری اختیار دی چه یا د عدت له ختمیدلو ځخه پخوا سم له دستوره هغی ښځی ته رجعت او خپلی نکاح ته دوام ورکړئ ! یا د عدت په ختمیدلو سره په معقولی طریقی باندی له هغی ځخه جلا (جدا) شئ ! مطلب دا که د نکاح تینګ ساتل مقصد وی نو په هغه وقت کښی او که ئی شلول مطلب وی نو په دغه وقت کښی ځغرد (تینګوالی) پری وکړئ ! او په دواړو صورتونو کښی د انسانیت ، شرافت اصولو ته په درنه سترګه وګورئ ! او داسی هم مه کوئ چه ساتنه ئی مقصود نه وی او خامخا د عدت د اوږدوالی دپاره رجعت وکړئ یا د ساتلو په صورت کښی هغی ته ایذا ورسوی او طعن او تشنیع ورواروئ ! .

وَّاَشْهِدُوْا ذَوَیْ عَدْلٍ مِّنْكُمْ

او شاهدان نیسئ تاسی (په دغه رجوع باندی) دوه خاوندان د عدل له تاسی ځخه

**تفسیر:** یعنی وروسته له طلاق ورکولو او پخوا د عدت له پوره کیدلو که د نکاح بیا ساتل غواړی نو په دی رجعت باندی دوه شاهدان ونیسی تر ځو د خلقو په نزد متهم نه شئ.

وَاَقِیْمُوا الشَّهَادَةَ لِلّٰهِ

او ښه اداء کړئ تاسی شاهدی (ای شاهدانو په وقت د حاجت کښی د) پاره د (ثواب او رضاء د) الله

**تفسیر:** په دی کښی شاهدانو لره هدایت دی چه د شاهدی ورکولو په وقت کښی کږه او خرابه خبره ونه کړی او سمه صافه او درسته خبره ووایئ ! .

ذٰلِكُمْ یُوْعَظُ بِهٖ مَنْ كَانَ یُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ ۬

دا (ساتنه په نیکۍ سره) نصیحت کاوه شي په دې سره هغه چاته چه وي چه ایمان ئې راوړی وي په الله او په ورځې ورستۍ (د قیامت) باندې

**تفسیر:** د جاهلیت په زمانه کښې پر ښځو باندې زیات ظلمونه کیدل او له ښځو سره هسې سلوک جاري ؤ لکه چه له غواؤ او خرونو سره ئې کوی یا له خورا (ډیر) سختو او ذلیلو بندیانو سره کاوه شي ځینې ښځې سل سل کرته طلاقولې خو سره د هغه به هم د هغوی د مصیبت دوره پای (آخر) ته نه رسیده په قرآن په څو څو ځایونو کښې د دې وحشیانه و مظالمو او بې رحمیو په خلاف ویناوې کړې دي او د نکاح او د طلاق په حدودو او حقوقو باندې په ډیر ښه دول (طریقه) سره زور غورځولی دی بالخصوص د دې سورت په منځ کښې په نورو حکیمانه ؤ هدایتو او نصیحتو کښې یو نهایت جامع او مانع او تول ښوونکې اصول بیان فرمایلی دي چه ﴿ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ فَارِقُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ ﴾ دې چه د هغه حاصل دا دی چه که ئې ساتئ نو په معقوله دول او طریقې سره ئې وساتئ ! او که ئې پریږدئ نو هم په معقوله طریقه سره ئې پریږدئ ! خو له دې ښو او زرینو نصیحتو څخه هغه سړی منتفع او ګټور کیدی شي چه په الله تعالیٰ او رسول الله صلی الله علیه وسلم او په آخرت باندې یقین لری ځکه چه هم دا باور او یقین د انسان په زړه کښې د الله تعالیٰ ویره او خوف پیدا کوی او د هم دې ویرې لامله (له وجې) دا خیال د انسان په فکر کښې پیدا کیږی همغسې چه یوه کمزوره ښځه له بخته او اتفاقه ځمونږ په منګلو او قبضه او اقتدار کښې راغلې ده مونږ هم تول د یوه لوی قهار الله تعالیٰ په قبضه او اقتدار کښې پراته یو هم دا یو خیال دی چه په هر حال کښې سړی له ظلم او تعدی څخه ساتی او د الله تعالیٰ په امر منلو باندې اړوی د دې دپاره په دې سورت کښې په مخصوص دول (طریقه) سره په اتقاء پرهیزګاری او د الله تعالیٰ په ویره باندې زیات امرونه او توصیې شوی دي .

وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجْعَل لَّهُۥ مَخْرَجًا ﴿٢﴾

او هغه څوک چه ویریږی له الله ځان ساتي له معاصیو وبه ګرځوی ده ته یو ځای د وتلو (له دنیوی او آخروی غمونو نه)

**تفسیر:** یعنی له الله تعالیٰ ځنې وویریږئ ! او د هغه د احکامو تعمیل په هر حال کښې وکړئ ! که څه هم له ډیرو مشکلاتو او شدائدو سره مخامخ شي ځکه چه الله تعالیٰ د هغو ګردو (تولو) مشکلاتو ځنې د وتلو لاره درخلاصوی او په سختیو کښې د ګزارې وسیلې هم در برابروی .

وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ

او رزق روزی به ورکړی (الله) ده ته له هغه (ځایه) چه گمان به نه کوی دی

**تفسیر:** د الله تعالیٰ ویری د دواړو دارینو د خزانو کنجی ده او د گردو (تولو) بریو او کامیابیو وسیله ده له هم دی څخنی گرد (تول) مشکلات اسانیږی بی قیاس او بی گمانه ئی رزق روزی او خواره ور رسیږی ، گناهونه ئی بښل کیږی جنت ورحاصلیږی ثواب ئی زیاتیږی او یوه عجیبه د زړه دادینه (تسکین) ـ سکون ـ اطمینان او خوښی په برخه او نصیب راځی چه د هغه لامله (له وجی) بیا هیڅ یوه سختی لکه سختی نه وربښکاری ـ او گردی (تولی) پریشانی او ربړونه (تکلیفونه) ئی پخپله ورکیږی په یوه حدیث کښی راغلی دی که د دنیا گرد (تول) خلق په هم دی آیت باندی په اخلاص سره منگولی ولگوی نو گردو (تولو) نړی والانو (اهل دنیا) ته هم دا هدایت بس او کافی دی .

وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ ۚ إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِ ۚ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا ③

او هغه څوک چه توکل وکړی په الله باندی نو دغه (الله) بس کافی دی ده لره (په دواړو جهانو کښی) بیشکه الله رسیدونکی دی امر کار خپل ته په تحقیق گرځولی ده الله هر څیز لره اندازه (نو هر څه کیږی په تقدیر د الله سره نو هم ده ته پکار ده سپارنه د هر کار خپل)

**تفسیر:** یعنی پر الله تعالیٰ باندی هیله (امید) او اسره ولرئ او یواځی پر وسائلو او اسبابو باندی تکیه ونه کړئ ! د الله تعالیٰ قدرت په دی اسبابو اړه (انحصار) نه لری د کوم کار د کولو اراده چه الله تعالیٰ وفرمائی هغه هرومرو (خامخا) پوره کیدونکی دی اسباب او وسائل هم د ده د مشیت تابع دی هو! د هر څیز اندازه د هغه له خوا تاکلی (مقرر) شوی دی چه سم له هغه سره هغه ښکاره کیدونکی ده نو ځکه که د کوم څیز په حاصلیدلو کښی څه ډیل ښکاره شی نو متوکل لره نه ښائی چه ځان خپه یا پریشان کړی .

وَالَّٰئِي يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيضِ مِن نِّسَائِكُمْ إِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَاثَةُ أَشْهُرٍ وَاللَّائِي لَمْ يَحِضْنَ ۚ

او هغه ښځې چه نااميده شوي وي (په سبب د كبارت يا د مرض) له حيضه له ښځو ستاسي ځنې كه چيرې په شك كښې ئې تاسي نو عدت د دوى درې مياشتې دي او هم داسې ښځې چه نه وي شوي حائضه (په سبب د صغارت نو درې مياشتې عدت دى تيروى)

تفسير: يعني پاك قرآن د مطلقې عدت لكه چه د «البقرة» په سورت كښې هم راغلي دى درې حيضه ښوولي دى كه شبهه او شك پيدا شي چه چاته حيض ور نشي يا د دير عمر او منګ لامله (له وجې) ئې حيض بند شوى وي نو د هغې عدت به څو وي ؟ دا ئې راښكاره كړه چه درې مياشتې دى .

وَأُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ

او (ښځې) خاوندانې د بار ګيډې (حاملاتې بلاربې) عدت د دوى دا دى چه كيږدي دوى بار خپل (وځيګوى مولود دغه طلاقې يا چه ميړه (خاوند) ئې مړ شوى وي) (يعني د حاملې عدت بچې كيدو پورې دى)

تفسير: د جمهورو په نزد د حاملې عدت د هغې د حمل تر وضعې او د مولود تر ځيګولو پورې دى كه څه هم هغه يوه لحظه او شيبه وروسته وي يا تر ديرو مياشتو پورې وځنډيږي (ايسار شي) په دى كښې د مطلقې او د كوندې حكم يو دى **(كما هو مصرح في الاحاديث)**

وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مِنْ أَمْرِهِ يُسْرًا ۝ ذَٰلِكَ أَمْرُ اللَّهِ أَنزَلَهُ إِلَيْكُمْ ۚ وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّئَاتِهِ وَيُعْظِمْ لَهُ أَجْرًا ۝

او هغه څوك چه ويريږى له الله ځان ساتي له معاصيو نو ويه ګرځوى الله ده ته كار د ده كښې اسانى دا (چه ويلي شوى دى) امر حكم د الله دى چه نازل كړى دى تاسي ته او هغه څوك چه ويريږى له الله ځان ساتي له معاصيو نو لرې به كړى الله له ده څخه ګناهونه د ده او لوى به كړى (الله) ده لره اجر ثواب (د ده)

تفسير: د هرې جملې په آخر كښې د اتقاء او د الله تعالىٰ اكرم شانه اعظم برهانه د ويرې مضمون په مختلفو اساليبو او دول دول (قسم قسم) پيرايو سره ئې تكرار كړى دى تر څو

لوستونکی د هغه د بار بار ویلو څخه ډیر ویښ او متنبه شي چه د ښځو په معاملاتو کښې د دی اتقاء او پرهیزگاری ضرورت ډیر زیات دی .

## أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ

واوسوئ دا (ښځې طلاقې کړی شوی) په هغه ځای کښې چه پکښې اوسیږئ تاسی (سم) له طاقت د تاسی (چه توانیږئ !)

**تفسیر:** د نارینه په ذمه باندی ضرور دی چه خپلې مطلقې ښځې ته تر عدت پوری هستوګنی دپاره کور ورکړی چه هغه ته «سکنیٰ» وایه شي نو کله چه سکنی واجبه شي نو نفقه هم د هغه په ذمه ثابتیږی ځکه چه ښځه دومره موده د ده په کور کښې مقیده او محبوسه (بنده) پاتې کیږی د قرآن کریم د دی الفاظو اشاره په هم دی لوری ده ﴿ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ وَلَا تُضَارُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُوا عَلَيْهِنَّ ﴾ کله چه نارینه هغه ښځه له خپل مقدور او حیثیت سره سمه په خپل کور کښې پریږدی ښکاره ده چه دا خبره دی لره هم متضمنه وی چه د هغې د خوراک او پوښاک مناسب بندوبست هم وکړی لکه چه د ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه په مصحف کښې دا آیت داسی ؤ (**اسکنوهن من حیث سکنتم وانفقوا علیهن من وجدکم**) ځمونږ د حنفیانو په نزد دا د سکنی او د نفقی حکم هر ډول (طریقه) مطلقې لره عام دی د رجعیه قید پکښې نشته ځکه هغه بیان چه له پرومبی څخه راغلی دی لکه د ائسی ـ صغیری او حاملی د عدت مسئلی په هغه کښې هیڅ یو تخصیص نشته بیا په دی کښې بلاوجه تخصیص ولی وکړی شي ؟پاتې شو د فاطمی بنت قیس حدیث چه په هغه کښې هغه وائی چه میره (خاوند) می ماته دری طلاق راکړی ؤ ـ نو ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته سکنی او نفقه ونه ټاکه (مقرر نه کړه ) او له دی حدیث څخه فاروق اعظم ـ عائشی صدیقی او نورو صحابه ؤ رضوان الله تعالیٰ علیهم اجمعین او تابعینو رحمهم الله تعالیٰ اجمعین انکار فرمایلی دی بلکه فاروق اعظم رضی الله تعالیٰ عنه تر دی پوری هم ویلی دی چه «مونږ د یوی ښځې په وینا سره د الله تعالیٰ کتاب او د هغه د رسول سنت نشو پریښودی چه دا هم مونږ ته نه دی معلوم چه هغه پیښه د دی ښځې په یاد پاتې ده که نه» ښکاره ده چه فاروق اعظم رضی الله تعالیٰ عنه له کتاب الله څخه په هم دی خبری باندی پوهیدلی دی چه ثلاثه مطلقې ته نفقه او سکنی واجبه ده ، او د هغه په تائید د رسول الله صلی الله علیه وسلم کوم سنت هم ورسره موجود ؤ لکه چه (طحاوی) او نورو داسی راویتونه نقل کړی دی چه حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه په تصریح سره بیان پکښې کړی دی چه «دا مسئله می له رسول اکرم صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلی ده» په «دارقطنی» کښې د جابر رضی الله تعالیٰ عنه یو حدیث په دی باره کښې صریح دی اګر که د هغه د ځینو راویاتو نورو رفع او وقف کلام کړی دی بل دا هم امکان لری چه حضرت نبوی به له دی جهته فاطمی بنت قیس ته د

سکنی تجویز نه وی فرمایلی چه دی خپل خسر سره ژبه او ویل کول او ناوړی (غلطی) خبری ویلی لکه چه په ځینو نورو روایتونو کښی شته نو ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم امر حکم ورکړ چه دا دی د هغوی له کوره ووځی نو کله چه سکنی پاتی نه شوه نو نفقه هم ساقطه شوه لکه هغه ښځه چه بی د میړه (خاوند) له پوښتنی له کوره د باندی درومی نفقه ئی تر هغه پوری ساقطیږی چه بیرته د خپل میړه (خاوند) کره راشی **نبه علیه ابوبکر الرازی فی احکام القرآن** برسیره په دی په (جامع ترمذی) او نورو کښی ځینی داسی روایتونه هم شته چه فاطمی ته د نفقی دپاره څه غله ورکړی شوی وه خو هغی له هغه مقدار څخه زیاته غوښتنه وکړله چه هغه ونه منله شوه نو مطلب ئی داسی شو چه رسول مبارک د دی د هغی زیاتی نفقی تجویز منظور ونه فرمایه چه د نارینه له لوری ورکړه شی والله اعلم بالصواب هو ! دا خبره مو هم په یاد وی چه نسائی ـ طبرانی او مسند امام احمد رضی الله تعالیٰ عنه په ځینو روایتو کښی فاطمی بنت قیس د رسول الله صلی الله علیه وسلم صریح ارشاد داسی نقل کړی دی چه سکنی او نفقه یواځی هغی مطلقی لره دی چه د هغی د رجعت امکان وی خو د دی روایتو سندونه دومره زیات قوی نه دی «زیلعی» د (هدایی) په تخریج کښی په دی باندی بحث کړی دی هلته دی وکوت شی !

---

وَلَا تُضَآرُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُوا عَلَيْهِنَّ ۚ

---

او مه کوئ اراده د ضرر تاسی د دغو (مطلقانو) لره چه تنګوئ به (ځایونه او نفقی) په دوی باندی

---

**تفسیر:** یعنی ای میړونو (خاوندانو) ضرر مه رسوئ تاسو دی ښځو طلاقو شوو ته په ځای د هستوګنی چه هغوی په تنګ شی او په وتلو سره مجبوری شی.

---

وَإِن كُنَّ أُولَاتِ حَمْلٍ فَأَنفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّىٰ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ۚ

---

او که چیری وی دغه (ښځی) خاوندانی د بار ګیډی (حاملانی بلاربی) نو نفقه کوئ تاسی پر دوی باندی تر هغه پوری چه کیږدی دوی بار (حمل د ګیډو) خپلو (په ځیګیدلو سره)

---

**تفسیر:** د حمل مدت کله چه ډیر اوږدیږی نو هغه په خصوصیت سره راوښود چه په هغه کښی که هومره اوږدوالی هم وشی خو د حمل تر ځیږیدلو پوری ښائی هغی ته دی نفقه ورکړه شی او داسی دی ونه کړی چه دری میاشتی نفقه ورکړی او بیا ئی بنده کړی.

فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ ۖ وَأْتَمِرُوا بَيْنَكُم بِمَعْرُوفٍ ۖ

نو كه تي وركاؤ دوى (پس له طلاقه) اولاد د تاسو لره پس وركړئ تاسي هغوى لره مزدورى د هغوى او مصلحت مشوره كوئ (اى ښځو او ميړو (خاوندانو) په حق د مولود خپل) په منځونو خپلو كښى په معروف نيكى سره

**تفسير:** يعنى كه له وضع حمل څخه وروسته ښځى ستاسى له خاطره ووكى ته شودى وركوى نو اجرت ئى ښائى هومره وركړ شى لكه نورو تى وركونكيو ښځو ته وركاوه كيږى . او سم له دستوره په معقوله طريقى سره يو له بله د دى ووكى په نسبت مشوره وكړى او لازمه قراردادونه وتړى او خامخا ضد او خراب تګ ونه كړى! او يو له بل سره د نيكى سلوك وكړى. نه دى ښځه د شودو له وركولو څخه غاړه غړوى. ! او نه دى نارينه له هغى ځنى مخ اړوى چه بلى ښځى ته د دى ووكى وركړى چه د ده د مور په ځاى بله ښځه په اجرت سره تى وركړى.

وَإِن تَعَاسَرْتُمْ فَسَتُرْضِعُ لَهُ أُخْرَىٰ ﴿٦﴾

او كه سختى وكړئ تاسى (اى والدينو په تى وركولو او اجرت كښى) نو لپاره د تى وركولو دى طلب كړى هغه (مولود) لره بله ښځه (يعنى دائى دى ورته ونيسى او په مور باندى دى زور نه كوى)

**تفسير:** يعنى كه د مخالفت ـ ضد لامله (له وجى) ښځه په شودو وركولو باندى راضى نشى نو نارينه دى هرومرو (خامخا) هغى ته نه ګورى او بله ښځه دى پيدا كړى چه هغه كوچنى (ماشوم) ته شودى وركړى. او كه نارينه پر هغى ښځى باندى خپل ووكى نه پالى او شودو ته ئى نه پريږدى نو خامخا به بله كومه ښځه پيدا كيږى. او په دواړو صورتو كښى به بلى ښځى ته شه وركول كيږى ـ نو ولى هم دا شى د همغه ووكى مور ته ورنه كړ شى چه هم ووكى په ارام او خوشاله ـ او هم مور پرى داده او بى پروا شى.

لِيُنفِقْ ذُو سَعَةٍ مِّن سَعَتِهِ ۖ وَمَن قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنفِقْ مِمَّا آتَاهُ اللَّهُ ۚ لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا مَا آتَاهَا ۚ سَيَجْعَلُ اللَّهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا ﴿٧﴾

نو نفقه دی ورکوی (مطلقانو او مرضعانو ته) خاوند د طاقت له طاقته شتو خپلو نه او هغه چه تنګ کړ شی په ده باندی رزق د هغه پس نفقه دی کوی له هغه څنی چه ورکړی وی هغه لره الله نه ورکوی تکلیف الله هیڅ نفس لره مګر خو په هغه قدر چه ورکړئ وی هغه لره له ماله) ژر به ښکاره کړی الله پس له سختی تنګی څخه اسانی فراخی

**تفسیر:** یعنی د ووړکی خرڅ پر پلار باندی دی. مال او شته والا دی د خپل مال او شتو په نسبی خرڅ او نفقه ورکوی فقیر ـ اکرب او نادار دی د خپل نشتوالی په حیثیت نفقه خرڅ کوی. که د کوم سړی په برخه ډیره فراخی او شته نه وی او د الله جل جلاله له درباره ئی لږ رزق او خواږه په برخه شوی وی نو دی په هغه کښی د خپل ګنجائش او قوت په نسبت خرڅ کړی ځکه چه الله تعالیٰ هیڅاته د هغه له طاقت څخه زیات تکلیف نه ورکوی کله چه کوم سړی په تنګه کښی هم د هغه له احکامو سره خرڅ وکړی نو الله تعالیٰ به هغه سختی او تنګه په اسانی او فراختیا سره ور بدله کړی.

وَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ عَتَتْ عَنْ أَمْرِ رَبِّهَا وَرُسُلِهِ فَحَاسَبْنَاهَا حِسَابًا شَدِيدًا وَعَذَّبْنَاهَا عَذَابًا نُّكْرًا ﴿٨﴾

او ډیر ۆ له کلیو څخه چه ګرځیدلی سرکښی کړی وه له امره حکمه د رب خپل او له (امره حکمه) د رسولانو د دغه (الله) څخه نو حساب به وکړو مونږ له هغوی سره حساب سخت (په قیامت کښی) او په عذاب به کړو مونږ هغوی په عذاب نا اشنا ناکاره سخت سره.

شیخ الهند رحمة الله علیه د دی آیت ترجمه داسی کړے ده چه «او څومره (ډیر) ۆ له کلیو نه چه سرکشی کړی وه له حکمونو د رب خپل نه او له رسولانو د ده نه پس حساب مو وکړ له هغوی سره حساب سخت او په عذاب مو کړ هغو په ناکاره ناخاپه عذاب سره

**تفسیر:** یعنی د شریعت د احکامو مخصوصاً د ښځو په نسبت د ګردو (تولو) حکمونو پوره پابندی ولری که نافرمانی وکړئ نو په یاد ئی ولرئ چه څومره کلی او ښارونه د الله تعالیٰ او د ده د رسولانو د نافرمانی لامله (له وجی) ویجاړ او وران شوی دی. کله چه هغه خلق د تکبر او ځانمنمی (لویی) آخری درجی ته ورسیدل او مونږ د هغوی حساب او کتاب ښه او کلک

واخیست او د هغوی یو عمل مو هم بی له پوښتنی پری نښود. او تول مو په هسی سخت عذاب او افت کښی اخته کړل چه د هغه نظیر او ثانی پخوا له هغه څخه هیڅ لیدلی شوی نه ؤ.

فَذَاقَتْ وَبَالَ أَمْرِهَا وَكَانَ عَاقِبَةُ أَمْرِهَا خُسْرًا ۝٩

نو (وڅکله یا) وبه څکی هغوی سزا د کار خپل (په دنیا کښی) او دی عاقبت آخر د امر کار د دوی زیان (په آخرت کښی چه حرمان دی له جنتونو).

**تفسیر:** یعنی هغه سودا ـ بیع او شری او پلورل او پیرودل (اخستل خرڅول) چه په تول عمر کښی کړی ؤ اخر ئی په هغو کښی سخت نقصان وموند تر دی چه پنګه (سرمایه) ئی هم له لاسه ووتله.

أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا

تیار کړی دی الله هغوی ته عذاب سخت (په دارینو کښی)

**تفسیر:** د مخه د دنیوی عذاب ذکر ؤ دا د آخروی عذاب ذکر دی

فَاتَّقُوا اللَّهَ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ ۚ الَّذِينَ آمَنُوا ۚ

نو وویریږئ له الله ځان وساتئ ای خاوندانو د عقلونو هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی

**تفسیر:** یعنی د دی عبرتناکو واقعاتو له اوریدلو څخه عقلمند ایماندارانو ته ویریدل په کار دی او مونږ لره داسی کار کول نه ښائی چه د هغه لامله (له وجی) د الله تعالیٰ د قهر او د خپګان مورد وګرځو العیاذ بالله.

قَدْ أَنْزَلَ اللَّهُ إِلَيْكُمْ ذِكْرًا ۝١٠

په تحقیق نازل کړی دی الله تاسی ته ذکر نصیحت (قرآن)

**تفسیر:** یعنی قرآن که له (ذکر) ځنی (ذاکر) مراد وی نو هغه پخپله رسول دی.

رَّسُولًا يَتْلُوا عَلَيْكُمْ آيٰتِ اللّٰهِ مُبَيِّنٰتٍ

رسول (چه محمد) دی لولی په تاسی باندی آیتونه د الله چه ښکاره ظاهر کوونکی دی (د احکامو)

**تفسیر:** یعنی ښکاره نښی او آیات چه په هغو کښی د الله تعالیٰ احکام په ډیر ښه ډول (طریقه) سره اورولی شوی دی.

لِّيُخْرِجَ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنَ الظُّلُمٰتِ إِلَى النُّورِ ط

دپاره د دی چه وباسی (الله) هغه کسان چه ایمان ئی راوړی او کړی دی ښه عملونه له ظلمتونو تیارو (د جهل او کفر) ځخه رڼا (رڼړا) (د علم او ایمان) ته

**تفسیر:** یعنی د کفر او د جهل له ظلمت او تیارو ځنی ایستلی د ایمان او د عمل رڼا (رڼړا) ته مو لار ښوولی ده

وَمَن يُؤْمِن بِاللّٰهِ وَيَعْمَلْ صٰلِحًا يُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ خٰلِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۖ قَدْ أَحْسَنَ اللّٰهُ لَهُ رِزْقًا ﴿١١﴾

او هغه چه ایمان راوړی په الله باندی او وکړی ښه (عمل) نو داخل به کړی (الله) ده لره په جنتونو کښی چه بهیږی له لاندی (د مانیو ونو) د هغو (ځلور قسمه) ویالی تل به اوسیدونکی وی دوی په هغو کښی ابدی همیشه په تحقیق ښه ورکړی دی الله هغه ته رزق روزی

**تفسیر:** او له جنت ځخه زیات ښه رزق ـ خواړه او روزی چیری موندل کیږی.

اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ وَّمِنَ الْاَرْضِ مِثْلَهُنَّ ؕ

الله هغه (ذات) دی چه پیدا کړی دی اوه آسمانونه او (پیدا کړی دی) له ځمکی څخه هم په مثل د دی (اوه آسمانونه اوه ځمکی)

**تفسیر:** یعنی اوه ځمکی هم پیدا کړی دی لکه چه د (ترمذی) او نورو په احادیثو کښی راغلی دی. په دوی کښی احتمال شته چه په سترګو سره وکتل شی ـ او احتمال لری چه په نظر کښی رانشی خو خلق هغه د ستوری (کواکب) په نامه پیژنی لکه مریخ غوندی چه د هغه په نسبت د اوسنو پوهانو او حکماؤ داسی ګمان دی چه په هغه کښی غرونه او سیندونه ودانی او نور ژوندی شیان شته پاتی شوه دا خبره چه په حدیث کښی د دی ځمکی شتوالی د دی ځمکی لاندی وارد شوی دی ښائی هغه د هغو د ځینو حالاتو او اعتباراتو په نسبت وی او په ځینو حالاتو کښی کیدی شی چه هغه ځمکی له دی ځمکی څخه پاس ورشی هر څه د ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه هغه اثر چه په کښی «آدم کآدمکم» او نور راغلی دی د هغه د شرحی موقع نشته په (روح المعانی) کښی په دی باندی پوره خبری شوی دی او د حضرت مولانا محمد قاسم رحمة الله علیه په ځینو رسالو کښی د هغه په شاؤ خوا کښی ښی خبری او څرګند (ښکاره) ونی شته او د هغه هر لوری ښه ښکاره شوی دی. کیږی چه له اوه ځمکو څخه د دنیا اوه براعظم مراد وی «برهان الدین کشککی»)

یَتَنَزَّلُ الْاَمْرُ بَیْنَهُنَّ

نازلیږی امر حکم (د الله) په منځ د دغو (آسمانونو او ځمکو) کښی

**تفسیر:** یعنی د عالم د انتظام او تدبیر لاره د الله تعالیٰ تکوینیه او تشریعیه احکام په آسمانونو او ځمکه کښی راښکته کیږی.

لِتَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ قَدْ اَحَاطَ بِكُلِّ شَیْءٍ عِلْمًا ع ⑫

(پوهوی مو) تر څو چه وپوهیږئ تاسی چه بیشکه الله پر هر څیز باندی (چه اراده وفرمائی) ښه قادر دی (چه ځینی دغه جریان د احکام ئی دی په ځمکه او آسمان کښی) او (پوه شئ!) بیشکه چه الله په تحقیق احاطه فرمائلی رسیدلی دی هر شی ته له جهته د علمه قدرته.

**تفسير:** يعنى د آسمان او د ځمکی د پيدا کولو او د هغو د انتظامی احکامو له جاری کولو څخه دا مقصود دی چه د الله تعالیٰ د علم او د قدرت د صفاتو اظهار وشی دا خبره د «ابن قيم رحمة الله عليه» له لوری په (بدائع الفوائد) کښی څرگنده (ښکاره) شوی ده. نور صفات په هم دی دوو صفتونو سره څه نه څه تعلق لری د صوفيه ؤ د دی مشهور حديث مضمون چه **«کنت کنزاً مخفيا فاحببت ان اعرف»** دی اگر که د محدثينو په نزد صحيح نه دی خو ښائی چه هغه مضمون د دی آيت له مضمون څخه مستفاد شوی وی والله تعالیٰ اعلم.

## تمت سورة الطلاق ولله الحمد والمنة

سورة التحريم مدنية وهی اثنتا عشرة آية وفيها رکوعان
رقمها (٦٦) تسلسلها حسب النزول (١٠٧)
نزلت بعد سورة الحجرات
د «التحريم» سورت مدنی دی (١٢) ايتونه او (٢) رکوع لری په تلاوت کښی (٦٦) او په نزول کښی (١٠٧)
سورت دی وروسته د «الحجرات» له سورته نازل شوی دی

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډير زيات مهربان پوره رحم لرونکی دی

د (الاحزاب) د سورت په تفاسيرو کښی تير شوی دی کله چه الله تعالیٰ مسلمانانو ته بری او فتوحات وبښل او گرد (تول) مسلمانان سره ښه اسوده شول نو د حضرت نبوی صلی الله عليه وسلم مطهراتو ازواجو ته هم دا خيال پيدا شو چه مونږ به ولی په خوشالی سره ژوندون نه کوو؟ نو ځکه دوی تولو سره لاس يو کړ او د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم له حضوره ځنی خپلی نفقی وغوښتلی په صحيح مسلم کښی يو حديث دی « **هن حولی يسألننی النفقة**» او د صحيح بخاری شريف په ابواب المناقب کښی راغلی دی «**وحوله نسوة يکلمنه ويستکثرنه**» دلته حضرت ابوبکر صديق رضی الله تعالیٰ عنه حضرت بی‌بی عائشی صديقی رضی الله تعالیٰ عنها ته ـ او حضرت عمر فاروق رضی الله تعالیٰ عنه حضرت بی‌بی حفصی رضی الله تعالیٰ عنها ته په قهر شول او دوی له هسی غوښتنی ځنی منع کړلی ـ نو د دوی لامله (له وجی) نورو مطهراتو ازواجو هم له دی خبری ځنی مخ واړاوه او دا ئی سره غوته کړله چه وروسته له دی نه به مونږ له پيغمبر ځنی داسی يو شی نه غواړو چه له نبی الله صلی الله عليه وسلم سره نه وی.

بیا هم د پیښنو تګ داسی راپیښی شوی چه د هغو لامله (له وجی) رسول اکرم صلی الله علیه وسلم تر یوی میاشتی پوری له خپلو تولو کدو څخنی جلا (جدا) شو او (ایلاء) ئی فرمایله تر څو د تخییر آیت چه په (الاحزاب) کښی تیر شو راغی او دی قصی ته ئی خاتمه ورکړه په دی ضمن او ترڅ کښی څه نوری پیښی هم واقع شوی چه د هغو له سببه د دوی مبارک زړه لږ څه خفه شو رښتیا خبره دا ده هغه مینه او محبت او تعلقات چه مطهراتو ازواجو د حضرت رسول اکرم صلی الله تعالیٰ علیه وسلم سره درلودل (لرل) د هغو اړیکیو (تعلقاتو) او علاقو لامله (له وجی) د هغو په منځ کښی یو شان قدرتی او فطری کشمکش پیدا شوی و. هره یوه به په هم دی تمنا او ارمان وه چه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم زیاته توجه او مینه خپل ځان ته ورکش کړی او خپل ځان د دوی د زیاتی توجه او مینی مرکز وګرځوی او د دواړو د دارینو له برکاتو او فیوضاتو څخنی ګتوری او متمتعی شی نارینه ته دا موقع د تحمل ـ تدبر خوش اخلاقی ډیره نازکه موقع او مرحله وی خو د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ثابت قدمی او استقامت په دی نازک فرصت کښی هم همغسی غیر متزلزل ثابت او تحسین او د ستایلو وړ (لائق) ښکاره شو چه د هغه هیله (امید) او توقع د حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم د مسعود وجود او ښه سیرت څخنی کیده ـ د حضرت نبوی صلی الله علیه وسلم هسی عادت ؤ چه وروسته له مازدیګره د خپلو تولو مطهراتو ازواجو کره د څو لحظو او شیبو له مخی ته ـ یوه ورځ حضرت صلی الله علیه وسلم د خپلی ښځی حضرت ام‌المؤمنین بی‌بی زینب رضی الله تعالیٰ عنها په کور کښی لږ شانی ډیل وفرمایه ـ وروسته دا ښکاره شوه چه دوی هلته د هغه عسل شات ګبینه څخه لږ څه خوړلی ؤ چه د دوی په مخ کښی ور وړاندی کړی شوی وه دا د شاتو او د ګبینو د خوړلو ډیل او وقفه په هره ورځ پرله پسی پیښیده. تر څو چه حضرت ام المؤمنین بی‌بی عائشة الصدیقة او حضرت ام‌المؤمنین بی‌بی حفصة رضی الله تعالیٰ عنها سره ملګری وی او داسی تدبیر ئی سره جوړ کړو چه د هغی لامله (له وجی) نه یواځی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د شاتو د شربت څښلو د هغی کره پری ښود بلکه حضرت بی‌بی حفصی رضی الله تعالیٰ عنها ته ئی وفرمایل چه «ما د زینب کره د شاتو شربت څښلی و. اوس قسم خورم چه وروسته له دی نه ئی نه څښم!» کله چی د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په خیال دا خبره هم تیره شوی وه که له دی خبری څخه حضرت بی‌بی زینب رضی الله تعالیٰ عنها خبره شی نو هرومرو (خامخا) خپه کیږی. نو حضرت صلی الله علیه وسلم بی‌بی حفصی رضی الله تعالیٰ عنها ته ئی دا هم فرمایلی ؤ چه «له دی خبری هیچا ته څه ونه وائی» هم داسی یوه خبره د ام‌المؤمنین حضرت بی‌بی ماریة القبطیة رضی الله تعالیٰ عنها په نسبت هم پیښه شوی وه. ماریة القبطیة هم د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم مانډینه (بی بی ) وه چه د دی له ګیډی څخه د دوی ځوی سیدنا ابراهیم رضی الله تعالیٰ عنه ځیږیدلی ؤ چه حضرت نبوی د نورو ازواجو د خوښی دپاره قسم خوړلی ؤ چه «پس له دی نه به د هغی کره نه ځم» او دا خبره نشی. خو حضرت بی‌بی حفصة رضی الله تعالیٰ عنها له دی خبری څخه په پته حضرت عائشی رضی الله تعالیٰ عنها ته خبر ورکړ او دا ئی هم ورته وویل چه پته ئی وساتی. دلته د الله تعالیٰ له لوری

دا خبری څمونږ پیغمبر ته ورښکاره شوی نو حضرت صلی الله علیه وسلم حضرت بی‌بی حفصة رضی الله تعالیٰ عنها ته وفرمایل چه «ولی دی له دی خبری څخنی نوری خبر کړی دی؟ چه په تینګه سره می درته ویلی ؤ چه پته ئی وساته » نو هغوی په تعجب سره وویل «تاسی ته دا خبر چا درکړی دی؟ ښائی چه د هغی خیال د عائشی رضی الله تعالیٰ عنها په لوری تللی وی نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه «الله تعالیٰ ماته له دی خبری څخنی خبر راکړی دی» د هم دی پیښی په لړ کښی دا ایتونه راښکته شوی دی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكَۖ تَبۡتَغِي مَرۡضَاتَ أَزۡوَٰجِكَۚ

ای نبی (ای څما پیغمبره!) ولی حراموی ته هغه چه حلال کړی دی الله تاته غواړی ته (په دی حرامولو سره) خوښی د ښځو خپلو

**تفسیر:** د حلال شی په ځان باندی د حرامولو مقصد داسی دی چه د هغه شی په نسبت چه د عقیدی له مخی حلال او مباح ګڼی هسی عهد او پیمان وکړی چه وروسته له دی نه به ئی نه استعمالوم. که داسی کول د کوم صحیح مصلحت پر بناء وی نو شرعاً جائز دی. مګر د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د رفیع شان سره دا وړ (لائق) او مناسب نه ؤ چه د ځینو ازواجو د خوښی دپاره داسی یوه (اسوه) قائمه کړی چه وروسته له دی نه به د هغه د امت دپاره د تکلیف سبب وګرځی نو ځکه الله تعالیٰ خپل رسول ئی متنبه وفرمایه چه ازواجو سره بیشکه خوش اخلاقی کول او په مینی او محبت سره سلوک لرل ښه کار دی مګر نه په دی اندازه او میچ چه یو حلال شی پر ځان باندی حرام کړی او خامخا ځان په ربړ (تکلیف) کښی واچوی.

وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ١

او الله ښښونکی دی (ستا قسم لره) ډیر رحم والا دی (چه مقرر کړی دی کفارت د قسم)

**تفسیر:** چه ګناه ښښی او له تاسی څخنی کومه ګناه هم نه ده شوی ـ یوائځی پخپلی درجی کښی یو خلاف اولیٰ خبره دی له خولی څخه وتلی وی.

قَدۡ فَرَضَ ٱللَّهُ لَكُمۡ تَحِلَّةَ أَيۡمَٰنِكُمۡۚ وَٱللَّهُ مَوۡلَىٰكُمۡۖ وَهُوَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡحَكِيمُ ٢

په تحقيق مقرر كړى دى الله تاسى لره حلالوالى د قسمونو ستاسى (په كفارت سره) او الله مولىٰ دوست مددگار ستاسى دى او هم دغه (الله) ښه عالم دانا دى ښه حكمت والا دى

**تفسير:** يعنى هغه مالک الملک اعلىٰ شانه واعظم برهانه د خپل علم او حكمت له مخى تاسى ته مناسب احكام او هدايات درليږلى دى چه له هغو څخه دا دى كه كوم سړى په يوه نامناسب شى باندى قسم وخورى نو كفاره دى وركړى او خپل قسم دى حلال كړى چه د هغه ذكر د «المائدة» په سورت كښى راغلى دى حضرت شاه صاحب ليكى اوس كه څوک د خپل مال په نسبت داسى ووائى چه دا په ما باندى حرام دى نو ئى قسم شى كله چه كفاره ئى وركړى بيا به له هغه څخنى گټه (فائده) اخيستى شى خواړه كه جامى او زيورات ( **هذا ما عليه نحن الحنفية)**

وَإِذْ أَسَرَّ النَّبِيُّ إِلَىٰ بَعْضِ أَزْوَاجِهِ حَدِيثًا فَلَمَّا نَبَّأَتْ بِهِ وَأَظْهَرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ عَرَّفَ بَعْضَهُ وَأَعْرَضَ عَنْ بَعْضٍ فَلَمَّا نَبَّأَهَا بِهِ قَالَتْ مَنْ أَنْبَأَكَ هَٰذَا قَالَ نَبَّأَنِيَ الْعَلِيمُ الْخَبِيرُ ﴿٣﴾

كله چه پټ راز ووايه نبى پيغمبر ځينو ښځو خپلو ته يوه خبره (چه تحريم د عسلو يا د مارييى يا د زينبى ؤ) نو كله چه خبر وركړ هغى (حفصى) په دى (خبرى) سره (عائشى ته) او ښكاره كړه هغه خبره الله پر دغه (خپل نبى پيغمبر) باندى نو ور وپيژندله (نبى حفصى ته) له ځينو هغو (خبرو) سره وويل دى (حفصى) چه چا خبر كړئ ته په دى باندى وويل (نبى) خبر كړى يم زه ښه عالم دانا ښه خبردار (الله په اسرارو د كائناتو).

**تفسير:** د دى سورت په شروع تاسى د شاتو او د ماريى قبطيى قصى ولوستلى په آيت كښى دا راښوولى شوى چه بنده د يوى خبرى به هغومره پټو ساتلو كښى چه كوشش وكړى نو كله چه الله تعالىٰ د هغى ښكاره كول وغواړى نو هيڅ كله هغه پټه نه پاتى كيږى او هم د نبى كريم صلى الله عليه وسلم د حسن معاشرت او د اخلاقو د وسعت ثبوت له دى څخه لا ښه ثابتيږى چه په هغو چارو كښى چه د دوى د طبيعت په خلاف پيښيدى تر كومى اندازى پورى تساهل او اغماض فرمايه او څرنگه ئى د عفوى او د كرم له لارى څنى خبرو ته كتل گواكى د شكايت په وقت

کښې ئې پوره الزام نه ورکاوه په (موضح القران) کښې راغلی دی چه «ځینې وائی د هغه حرم (ماریې قبطیې رضی الله تعالیٰ عنها) موقوفولو خبر حضرت پیغمبر حضرت بی‌بی حفصی رضی الله تعالیٰ عنها ته په پټه سره وویل او وئې فرمایل چه هغه دی هیچاته ونه وائی او له هغې سره ئې څه نوری خبری هم هغوی ته ویلی وی حضرت بی‌بی حفصی رضی الله تعالیٰ عنها د هغو ګردو (ټولو) خبرو حال احوال حضرت بی‌بی عائشې صدیقی رضی الله تعالیٰ عنها ته ووایه ځکه چه په دی ګردو (ټولو) خبرو کښې د دوی دواړو مطلب ؤ بیا د وحی په وسیله سره ئې دا خبره معلومه کړه او حضرت بی‌بی حفصة رضی الله تعالیٰ عنها ئې د حرم په خبره باندی ملزمه وپیژندله او د بلی خبری ذکر ئې ونه فرمایه. هغه بله خبره څه وه؟ ښائی چه هغه بله خبره به دا وی چه ستا پلار حضرة الناطق بالصواب عمر بن الخطاب رضی الله تعالیٰ عنه د عائشې له پلار **(افضل الصحابة واولهم بالتحقیق حضرة ابوبکر الصدیق رضی الله تعالیٰ عنه)** څخه وروسته په خلافت غوره کیږی الغیب عندالله هغه خبری چه د الله او د هغه رسول له لوری په تال اچولی شوی وی او نه وی ویلی شوی نو مونږ به په هغه باندی څه پوهیږو؟ ښائی چه هغه ئې د دی لامله (له وجی) نه وی څرګندله (ښکاره) کړی چه پخوا له وقته په هغه باندی خبری اتری او جرګی ونه کړلی شی او پر خلقو باندی بد اثر ونه لویږی. دا د خلافت مضمون په ځینو ضعیفو روایتونو کښې راغلی دی چه هغه د اهل التشیع د ځینو علماؤ له لوری هم منلی شوی دی.

إِن تَتُوبَآ إِلَى ٱللَّهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا ۖ

که توبه وباسئ تاسی دواړه (ای بیبیانو) الله ته (قبوله به شی) نو په تحقیق کاږه شوی دی زړونه د تاسی دواړو

**تفسیر:** دا خطاب بی‌بی عائشې رضی الله تعالیٰ عنها او بی‌بی حفصې رضی الله تعالیٰ عنها ته دی که تاسی توبه وباسی نو بیشکه د توبې ایستلو موقع ده ځکه چه ستاسی زړونه د اعتدال له لاری څنې کاږه شوی دی نو ښائی چه بیا هسې د بی اعتدالۍ په لوری لاړی نشئ او د بی اعتدالۍ څنې ځانونه وژغوری (وساتی).

وَإِن تَظَٰهَرَا عَلَيْهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ مَوْلَىٰهُ وَجِبْرِيلُ وَصَٰلِحُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۖ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ بَعْدَ ذَٰلِكَ ظَهِيرٌ ﴿٤﴾

او که مرستی (مدد) وکړئ تاسی دواړه یوه له بلی سره (په ضرر د دغه نبی باندی) نو بیشکه الله همغه مددګار دی د هغه (نبی) او جبریل او صالح د

مؤمنانو (ئی هم مددګاران دی) او ملائکی (ئی هم) وروسته له دغه (مددګاری نه) مددګارانی دی.

**تفسیر:** د زوجینو په کورنیو چارو کښی ځینی ځینی اوقات ځینی خبری ړومبی ډیری معمولی او وړوکی په نظر راځی خو که لږ څه عنان او ملونه ئی سسته پری ښوده شی نو په پای (آخر) کښی هغه ډیر یو ویروونکی او خطرناک شکل ځان ته غوره کوی په تیره بیا ښځه که کومی لوئ کورنی ته منسوبه وی نو هغه طبعاً پخپل پلار ـ ورور ـ خپلوانو او کورنی باندی نازیږی نو ځکه ئی تنبیه وفرمایله چه وګوری، که تاسی دا راز (قسم) مرستی (مدد) ملګرتیا او ښوونی کوئ نو په یاد ئی ولرئ چه له هغه شخه پیغمبر ته هیڅ یو ضرر نه رسیږی ولی چه الله تعالیٰ ـ پرښتی او نیک بخت ایمان لرونکی درجه په درجه چه د چا مرستی (مددګار) او رفیقان او مددګاران وی نو د هغه په مقابل کښی د بل کوم انسان تدبیر نه چلیږی هو! یواځی له هسی چارو ځنی تاسی ته نقصان در پیښیږی.

**تنبیه:** ځینو اسلافو د صالح المؤمنین په تفسیر کښی د حضرت ابوبکر او حضرت عمر فاروق رضی الله تعالیٰ عنهما نوموړنه اخیستی دی. چه ښائی دا د بی‌بی عائشی او بی‌بی حفصی رضی الله تعالیٰ عنهما په مناسبت وی والله اعلم

عَسٰى رَبُّهٗۤ اِنْ طَلَّقَكُنَّ اَنْ يُّبْدِلَهٗۤ اَزْوَاجًا خَيْرًا مِّنْكُنَّ مُسْلِمٰتٍ مُّؤْمِنٰتٍ قٰنِتٰتٍ تٰٓئِبٰتٍ عٰبِدٰتٍ سٰٓئِحٰتٍ ثَيِّبٰتٍ وَّاَبْكَارًا ۝٥

نږدی دی (او قادر دی) رب د دغه (نبی) که چیری طلاق درکړی تاسی تولو ته په دی چه بدل ورکړی ده لره نوری ښځی بهتری له تاسی شخه (په سیرت او صورت کښی) حکم منونکی مؤمنانی لمونځ کوونکی توبه ایستونکی عبادت کوونکی روژه نیوونکی هجرت کوونکی کونډی او پیغلی.

**تفسیر:** یعنی داسی وسوسو ته پخپلو زړونو کښی لاری مه ورکوئ ! چه نارینه لره خو خامخا د ښځو ضرورت وی او له مونږ ځنی ښائسته او ښکلی ښځی چیری پیدا کیږی نو ځکه دوی مجبور دی چه ځمونږ ګردی (تولی) وېناوی واوری. په یاد ئی ولرئ که الله تعالیٰ اراده وفرمائی نو له تاسی ځنی بهتری ښځی هم خپل پیغمبر ته پیدا کولی شی. ولی چه د الله تعالیٰ په دربار کښی د هیڅ یوه شی لږوالی نشته

**تنبیه:** د ثیباتو (کونډو) ذکر د دی لامله (له وجی) دلته راغلی دی چه کونډی د ځینو حیثیتونو لامله (له وجی) نارینه ؤ ته د ابکارو (پیغلو) په مقابل کښی مرجحی وی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ وَأَهۡلِيكُمۡ نَارٗا وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلۡحِجَارَةُ

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو) وساتئ تاسی ځانونه خپل او کور کهول خپل (په اطاعت د الله) له اور څخه چه خس اور لګونی بالنړ د هغه سړی او تیږی (ګټی) دی

**تفسیر:** هر مسلمان ته لازم دی چه د خپلو ملګرو او کور کهول والو په دینداری او مسلمانی کښی هم توجه ولری او د هغوی په سمون او لار ښوونه کښی زیار (کوشش) وباسی په پوهولو ـ ویرولو ـ پاللو ـ روزلو ـ مینه ـ محبت ـ وهلو او نورو وسیلو سره کوښښ وکړی چه هغی ته د دیانت چاری ور وښیی که سره له دی هم هغوی په لاره باندی برابر نه شی ـ نو د هغوی کمبختی او د ده بی قصوری پیژندی شی د ﴿ وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلۡحِجَارَةُ ﴾ تفسیر د(الٓمٓ) په (جزو) ځمونږ د دغه مبارک تفسیر کښی لیکلی شوی دی هلته دی وکوت شی!

عَلَيۡهَا مَلَٰٓئِكَةٌ غِلَاظٞ شِدَادٞ

په دی اور باندی مقرری دی پرښتی کلکی زوړنی قوتناکی زبردستی

**تفسیر:** یعنی دغه پرښتی پر مجرمانو باندی زړه سوی او رحم نه کوی او نه ئی پری ږدی او نه د هغه د زبردست نیولو څخنی هیڅوک ځان ژغورلی (بچ کولی) شی او نه تری تښتیدلی شی.

لَّا يَعۡصُونَ ٱللَّهَ مَآ أَمَرَهُمۡ وَيَفۡعَلُونَ مَا يُؤۡمَرُونَ ۝٦

نه کوی نافرمانی دغه (پرښتی) له الله د هغه څه چه امر ئی کړی دی دوی ته او کوی دوی هغه کار چه پری ماموری وی (من جانب الله).

**تفسیر:** یعنی نه د الله تعالیٰ له حکمونو څخنی خلاف تګ کوی او نه د هغو د احکامو په تعمیل کښی او په ځای راوړلو کښی څه ډیل او سستی کوی. او نه د حکم په امتثال کم قوته او عاجزانی دی. او په قیامت کښی ویلی کیږی دغو منکرانو ته داسی چه:

يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَعْتَذِرُوا الْيَوْمَ ۭ اِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۧ

اى هغو كسانو چه كافران منكران شوى يئ يعنى اى كافرانو عذر مه كوئ تاسى نن ورځ (ځكه چه نه قبليږى) بيشكه هم دا خبره ده چه بدل جزاء به دركړ شى تاسى ته د هغه څه عمل چه وئ تاسى چه كول به مو (په دنيا كښى)

**تفسير** يعنى د قيامت په ورځ كښى كله چه د جهنم عذاب په مخ كښى شته نو هلته به منكرانو ته ويلى كيږى چه اوس پلمى (تدبيرونه) او بهانى مه راښيى ځكه چه نن به هيڅ يوه پلمه (تدبير) او بهانه نه چليږى بلكه هر څه چه مو كړى دى هغه سزا به تاسى ته پوره دركوله كيږى او ځمونږ له لورى په تاسى باندى هيڅ يو ظلم او زيادت نه كيږى دا ګرد (تول) ستاسى عملونه دى چه د عذاب په بڼى (شكلونو) تاسى ته په نظر درځى.

يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا تُوْبُوْٓا اِلَى اللّٰهِ تَوْبَةً نَّصُوْحًا ۭ

اى هغو كسانو چه ايمان ئى راوړى دى (يعنى اى مؤمنانو!) توبه وباسئ تاسى الله ته توبه خالصه رښتيا د زړه له كومى

**تفسير:** د زړه له كومى خالصه توبه دا ده چه په زړه كښى بيا ګناه يو خيال هم تير نشى كه وروسته له توبى څخه بيا هم د ده په زړه كښى د همغو چتى (بيكاره) او خرابو چارو چرتونه (خيالونه) او فكرونو ته انديښنه وګرځيده نو ويوهيږى چه د هغه په توبه كښى څه نقص او كسر شته او د ګناه بنياد ئى لا له بيخه نه دى وتلى.

**رزقنا الله من التوبة النصوح حظا وافرا بفضلك و كرمك إنك علىٰ كل شئ قدير.**

عَسٰى رَبُّكُمْ اَنْ يُّكَفِّرَ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَيُدْخِلَكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۙ يَوْمَ لَا يُخْزِى اللّٰهُ النَّبِىَّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ ۚ

اميد دى چه رب ستاسى وبه رژوى له تاسى څخنى ګناهونه ستاسى او داخل به كړى تاسى هغو جنتونو ته چه بهيږى له لاندى د (ونو او مانيو د) هغو (څلور قسمه) ويالى (دا ننويستل ستاسى دى جنت ته) په هغه ورځ كښى چه وبه نه

شرموی الله نبی او هغو کسانو لره چه ایمان ئی راوړی دی له هغه سره

**تفسیر:** یعنی د نبی مقام خو ډیر لوړ (اوچت) دی د هغوی ملګرو ته هم ذلت نه ورپیښیږی بلکه په خورا (ډیر) اعزاز اکرام د فضل او شرف په مناسبو او لوړو (اوچتو) مقام کښی ځای مومی او د ډیر لوی افتخار او امتیاز خاوندان ګرځی.

نُورُهُمْ يَسْعٰى بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ

رڼا (رنړا) د دوی به ځغلی وړاندی د دوی څخه او په ښی خوا د دوی

**تفسیر:** د دی بیان د (حدید) په سورت کښی په خوا له دی نه تیر شوی دی وګورئ ځمونږ دغه مقدس تفسیر

يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اَتْمِمْ لَنَا نُوْرَنَا وَاغْفِرْ لَنَا ۚ اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۸﴾

وبه وائی دوی ای ربه ځمونږ پوره کړه باقی ولره مونږ لره رڼا (رنړا) ځمونږ او وبښه مونږ لره (ګناهونه ځمونږ) بیشکه ته پر هر شی باندی (چه اراده وفرمائی) ښه قادر ئی (چه ځینی هم دغه اتمام د نور او مغفرت دی).

**تفسیر:** یعنی ځمونږ رڼا (رنړا) تر آخر پوری قائمه ولره او مه ئی وژنه! لکه چه د منافقینو په نسبت د (حدید) په سورت کښی ولیکل شو چه د هغوی رڼا (رنړا) مړه کیږی او په توره تیاره کښی پاتی کیږی مفسرینو عموماً هم داسی لیکلی دی خو حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه د (اتمم لنانورنا) د مراد په بیانولو کښی لیکی چه د ایمان رڼا (رنړا) په زړه کښی وی چه زیاته شی نو په ټول بدن کښی خوره شی بیا په غوښه بیا په پوستکی کښی سرایت کوی.،

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ ۭ

ای نبی (ای محمد پیغمبره) جهاد جنګ کوه له کفارو سره (بالسیف) او له منافقانو سره (باللسان) او سختی کوه پر دوی باندی.

**تفسیر:** د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم خلق او پسته رشه (خوی) په دی اندازی سره زیاته وه چه الله تعالیٰ نورو ته د تحمل کولو امر فرمائی او په دوی باندی د سختی کولو امر کوی.

وَمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿٩﴾

او ځای (د ورتللو) د دوی جهنم دوزخ دی او بد مرجع ځای د ورتللو دی (دا دوزخ).

**تفسیر:** ړومبی د مؤمنانو د هستوګنی ځای ور وښوود ـ او بیا د هغوی په مقابل کښې د کفارو او د منافقانو د هستوګنی ځای او کور راښکاره کړ.

ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوا امْرَاَتَ نُوْحٍ وَّ امْرَاَتَ لُوْطٍ ۖ
كَانَتَا تَحْتَ عَبْدَيْنِ مِنْ عِبَادِنَا صَالِحَيْنِ فَخَانَتٰهُمَا فَلَمْ
يُغْنِيَا عَنْهُمَا مِنَ اللّٰهِ شَيْئًا وَّقِيْلَ ادْخُلَا النَّارَ مَعَ الدّٰخِلِيْنَ ﴿١٠﴾
وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا امْرَاَتَ فِرْعَوْنَ ۘ

بیان کړی دی الله یو مثل دپاره د هغو کسانو چه کافران منکران شوی دی ښځه د نوح او ښځه د لوط چه وی دا (دواړه ښځی تر نکاح) لاندی د دوو بندګانو له بندګانو صالحانو ځمونږ بیا خیانت وکړ (دی دواړو ښځو له دغو دواړو (صالحانو میړو (خاوندانو) خپلو سره) نو دفع نه کړ (دغو پیغمبرانو) له دغو (خپلو) ښځو څخه له عذاب د الله څخه هیڅ شی او وویل شو ننوځئ تاسی دواړه (دوزخ ته) سره له نورو ننوتونکیو (کافرانو) او بیان کړی دی الله یو مثل دپاره د هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی ښځه د فرعون

**تفسیر:** یعنی حضرت نوح او حضرت لوط علیهماالسلام د الله څخه نیک بندګان ؤ مګر د دواړو په کورونو کښې د هغوی ښځی منافقانی وی چه په ښکاره ډول (طریقه) به ئی هغو سره تعلقات لرل خو په پټه به له کافرانو سره ملی وی. نو بیا څنګه شول؟ له عامو دوزخیانو سره دوی هم د الله تعالیٰ له لوری په دوزخ کښې وغورځول شول او د پیغمبرانو د زوجیت تعلقات یوه ذره هم هغوی ته څه فائده ونه رسوله او نه ئی له عذابه وژغورل (وسائل) پرته (علاوه) له دی څخه د فرعون ښځه بی‌بی آسیه رضی الله تعالیٰ عنها بنت مزاحم چه یوه پخه ایمانداره او کامله ولیه وه او د هغی میړه (خاوند) د الله تعالیٰ لوی یاغی ؤ هغی نیکی ښځی خپل میړه (خاوند) له عذابه

ونه شو ژغورلی (ساتلی). او نه د میره (خاوند) د شرارت او بغاوت په جرم هغی ښځی ته کوم آخروی رنځ ور ورسید. حضرت شاه صاحب لیکی «یعنی خپل ایمان درست کړئ ! چه نه میره (خاوند) او نه مو ښځی او نه مو نور ژغورلی (بچ کولی) شی او دا قانون ئی په عام دول (طریقه) ګردو (تولو) ته وارواوه .» داسی دی توهم ونه کړ شی چه (معاذ الله) دا ئی د حضرت ښځو ته ویلی دی هغوی ته خو ئی هغه فرمایلی دی چه د النور په سورت کښی راغلی دی. ﴿وَالطَّيِّبٰتُ لِلطَّيِّبِينَ﴾ او که په فرض محال سره داسی توهم وکړی شی نو د فرعون د ښځی مثال له چا سره ونښلاوه شی؟ «**لاحول ولاقوة الا بالله العلی العظیم**»

إِذْ قَالَتْ رَبِّ ابْنِ لِي عِندَكَ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ

کله چه وویل دی ای ربه ځما جوړ کړه ماته په نزد خپل یو کور په جنت کښی

**تفسیر:** یعنی خپل قرب دی را عنایت کړه ! او په جنت کښی راته یوه مانی ودانه کړه !.

وَنَجِّنِي مِن فِرْعَوْنَ وَعَمَلِهِ وَنَجِّنِي مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿١١﴾

او ومی ژغوره (خلاصه) می کړه له عذاب د فرعون ځخه او له عملی د ده ځخه او ومی ژغوره (خلاصه) می کړه له قومه ظالمانو ځخه.

**تفسیر:** یعنی د فرعون له منګولو ځخه می وژغوره (وساته)! او د هغه له ظلم ځنی راته نجات وبښه دوی حضرت موسیٰ علیه السلام پاللی ؤ او د دوی له مرستیانو (ملګرو) ځنی ؤ وائی کله چه فرعون ته دا حال ورڅرګند شو نو دایئ په ځلورو موږو کښی وتاړه او راز راز (قسم قسم) ربړونه (تکلیفونه) او ایذاوی ور ورسولی په هم دی حال کښی د الله تعالیٰ له لوری هغه ته د هغه د جنت ځای ور وښوول شو چه د هغه لامله (له وجی) په هغی باندی هغه ګرد (تول) ربړونه (تکلیفونه) او سختیاوی ور اسانی شوی په پای (آخر) کښی فرعون هغه سیاستاً ووژله او دی د شهادت کندول په سر واړاوه او د حقیقی مالک الملکوت اجل و اعلیٰ شانه واعظم برهانه مخی ته ورسیده په صحیح حدیث کښی نبی کریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم د دی د کامل توب اعلان فرمایلی او حضرت بی‌بی مریم سره ئی د هغه شتوالی ذکر کړی دی په زرهاؤ رحمتونه دی د وی د دوی په پاک روح باندی.

وَمَرْيَمَ ابْنَتَ عِمْرَانَ الَّتِي أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا

او (مثل بیان کړی دی الله د) مریم لور د عمران هغه چه ساتلی و ځای د شهوت خپل (له نکاح او سفاح څخه)

**تفیسر:** یعنی له حلال او له حرام له ګردو (تولو) څخه ئی محفوظه وساتله.

## فَنَفَخۡنَا فِيهِ مِن رُّوحِنَا

نو ومو پوکل (په ګریوان د هغی) کښی له روح خپل څخه

**تفسیر:** یعنی د پرښتی په وسیله ئی یو روح ورو پوکله. حضرت جبریل علیه السلام د دی د کمیسه په ګریوان کښی پوکلی و چه د هغه په نتیجه کښی د حمل استقرار وشو او حضرت مسیح علیه السلام پیدا شو.

**تنبیه:** د نفخی نسبت ئی د ځان په لوری ځکه وفرمایه چه حقیقی خالق او علی الاطلاق مؤثر همغه دی ځکه چه د هری ښځی په رحم کښی هر یو وړوکی چه جوړیږی د هغه اصلی جوړونکی او پیدا کوونکی پرته (علاوه) له دی خالق څخه څوک دی. ځینو محققینو دلته د (فرج) معنی د ګریوان یا څاک (چاک ګریبان) اخیستی ده نو په دی تقدیر سره ﴿ أَحۡصَنَتۡ فَرۡجَهَا ﴾ معنی به داسی وی چه د هیچا لاس ئی خپل ګریوان ته نه دی پری ایښی او دا به نهایت بلیغه کنایه د دی له عصمت او عفت څخه وی لکه ځمونږ د پښتنو په محاورو کښی وایه شی چه هغه ښځه ډیره سپین لمنی ده! په عربو کښی داسی وائی «**نقی الجیب طاهر الذیل**» توله دی ځنی عفیف النفس مراد اخلی او د جامی لمن او یا څاک مراد نه وی نو په دی تقدیر سره به ﴿ فَنَفَخۡنَا فِيهِ ﴾ کښی ضمیر د (فرج) په لوری د هغه د لغوی معنی په اعتبار سره راجع کیږی والله تعالیٰ اعلم بالصواب.

## وَصَدَّقَتۡ بِكَلِمَٰتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهِۦ

او تصدیق باور کړی و هغی په خبرو د رب خپل باندی او په کتابونو د ده

**تفسیر:** د رب خبری هغه وی چه د پرښتو په ژبو سره د آل عمران په سورت کښی بیان شوی دی ﴿ وَإِذۡ قَالَتِ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَٰمَرۡيَمُ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصۡطَفَىٰكِ وَطَهَّرَكِ ﴾ الآیة ـ او له کتابونو ځنی به عام سماویه کتابونه مراد اخلی او د تخصیص ضرورت نشته.

وَكَانَتْ مِنَ الْقٰنِتِيْنَ ﴿١٢﴾

او وه دا له امر منونکیو فرمان وړونکیو څخه.

**تفسیر:** یعنی د کاملینو نارینه ؤ په شان په بندګی او طاعت کښی تینګه او ثابت قدمه وه باقی داسی وبوله چه د قانتینو له کورنی څخه وه.

**«تمت سورة التحريم ولله الحمد والمنة وبه التوفيق والعصمة»**

سورة الملک مکية وهی ثلثون آية وفيها رکوعان رقمها (٦٧) تسلسلهاحسب النزول (٧٧) نزلت بعد سورة الطور

د الملک سورت مکی دی (٣٠) آيته دوه رکوع لری په تلاوت کښی (٦٧) او په نزول کښی (٧٧) سورت دی

وروسته د «الطور» له سورت څخه نازل شوی دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډير زيات مهربان پوره رحم لرونکی دی

تَبٰرَكَ الَّذِيْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرُ ۝١

ډير برکت کوی هغه (الله) چه په لاس (بلاکيف) د ده کښی دی ملک سلطنت او هم دغه (الله) پر هر څيز باندی (چه اراده وفرمائی) ښه قادر دی.

**تفسير:** يعنی لوی برکتناک او خورا (ډير) ثابت دی په دوام هغه الله تعالیٰ چه ګرد (تول) ملک د ده دی او پواځی په هر شی کښی د هغه واک او اختيار دی او حکم ئی پر هر څيز او هر ځای باندی چليږی.

الَّذِيْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا

هغه (الله) چه پيدا کړی ئی دی مرګ او ژوندون لپاره د دی چه وازموئی تاسی چه کوم يو له تاسی ډير ښه دی د عمل له مخی (چه درکړی تاسو ته جزاء د اعمالو)

**تفسير:** يعنی د مرينی او د ژوندون سلسله هغه الله قائمه کړی ده. مونږ او تاسی ړومبی هيڅ نه وو هم هغه مرګ او مرينه وګڼی بيا پيدا شو وروسته له هغه مرينه او مرګ پر مونږ راځی بيا مو له هغی مرينی او مرګ څخه ژوندی راپاڅوی لکه چه د(البقرة) په دريمی رکوع ۲۸ آيت ځمونږ د دغه تفسير کښی راغلی دی ﴿وَكُنْتُمْ اَمْوَاتًا فَاَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيْكُمْ ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ﴾ د مرينی او د ژوندون دا ګردی (تولی) سلسلی د دی دپاره دی چه ستاسی د چارو کتنه او ازموينه وکړه شی چه کوم يو خراب کار کوی؟ او کوم يو ښه کوی په ړومبنی ژوندون کښی ازموينه کيږی او په دوهم ژوندون کښی د هغه نتيجه فوراً درښوله کيږی. فرض ئی کړی. که ړومبی

ژوندون نه وی نو چا به عمل کاوه. که موت نه راتلی نو خلق به له مبدا او منتهیٰ ځنی غافل او بی فکره پاتی کیدل او هیڅ به نه پسی گرځیدل که بیا ژوندون نه وی نو د ښو او بدو چارو بدل به چیری ورکاوه کیده؟.

وَهُوَ الْعَزِيزُ الْغَفُورُ ۝٢

او هم دغه (الله) ښه غالب قوی دی ډیر مغفرت کوونکی دی.

**تفسیر:** یعنی داسی زبردست دی چه د هغه له نیولو ځنی هیڅوک ځان نشی بچ کولی او لوی لورونکی مغفرت کوونکی او ښونکی هم دی.

الَّذِي خَلَقَ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ طِبَاقًا ۖ

هغه (الله) چه پیدا کړی ئی دی اووه آسمانونه طبقی طبقی لاندی باندی

**تفسیر:** په حدیث کښی راغلی دی چه د یوه آسمان په سر باندی بل آسمان او د هغه د پاسه دریم آسمان او هم داسی یو پر بل باندی اووه آسمانونه سره لاندی باندی طبقی دی چه له یوه آسمانه تر بل آسمان پوری د پنځو سوو کلونو مسافه ده. د دی خبری تصریح په نصوصو کښی نه ده شوی دا شینتوب (شینوالی) چه ځمونږ په نظر راځی هم دغه آسمان دی؟ کیږی چه اووم آسمان له دی څخه پاس وی او دا شین والی د آسمان د چت رنگ وی.

مَا تَرَىٰ فِي خَلْقِ الرَّحْمَٰنِ مِن تَفَاوُتٍ ۖ

وبه نه وینی ته (ای کتونکیه) په پیدایښت د رحمٰن کښی هیڅ تفاوت خلل عیب فرق

**تفسیر:** یعنی قدرت پخپل انتظام او کاریگری کښی هچیری هیڅ فرق نه دی ایښی په هر شی کښی له انسان ځنی اخیستی تر حیواناتو - نباتاتو - جماداتو - عناصرو - علوی او سفلی - اجرامو او اوو آسمانونو - ستوریو - او نورو پوری یو شانی د هغه قدرت او کاریگری ښکاری - هسی نه دی چه ځینی شیان ئی په حکمت او بصیرت سره او ځینی ئی هم داسی چتی (فضول) او بیکاره او بی اصوله پیدا کړی وی (العیاذ بالله) که چیری چاته هسی کوم شی په نظر ورشی نو ودی پوهیږی چه د هغه په ځای د ده په عقل او نظر کښی څه نه څه نقص او قصور شته.

فَارْجِعِ الْبَصَرَ هَلْ تَرٰى مِنْ فُطُوْرٍ ﴿٣﴾

بیا واړوه (خپلې) سترګې چه آیا وینې ته (پکښې) څه چاود خیروالی نقصان.

**تفسیر:** یعنی ګرد (ټول) کائنات له ښکته څخه تر پاسه پورې په یوه قانون او مضبوط نظام سره تړلی شوی دی او یو لړ ئې له بل لړ سره داسې نښتی دی چه هیڅېرې څه چاود ـ فرق ـ تفاوت سورې ـ خلل ـ نقصان عیب او څه تنقید پکښې نشته. او نه د هغه په کاریګرۍ کښې څه اهمال او اختلال موندل کیږي هر شی همغسې دی لکه چه ښائي. که دا آیتونه د آسمان په نسبت وی نو مطلب به ئې داسې وي چه ای اوریدونکیه (مخاطبه) پاس آسمان ته وګوره چه په کوم ځای کښې ئې څه لاندې باندې درز چاود خیروالی او نقصان موندل کیږي؟ بلکه یو صاف ـ هوار ـ متصل ـ مربوط او منظم شی په نظر راځي چه سره د تیریدلو د دومره زمانو او د او د ازمنو د تطاولو تر نن پورې هیڅ یو فرق او تفاوت نه پکښې لیده کیږي.

ثُمَّ ارْجِعِ الْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ يَنْقَلِبْ إِلَيْكَ الْبَصَرُ خَاسِئًا وَّهُوَ حَسِيْرٌ ﴿٤﴾

بیا وګرځوه سترګې خپلې (آسمان ته ای کتونکیه!) دوه دوه ځلې بیرته به راو ګرځي پاتې سترګې (ستا) بیرته ګرځیدونکې او دغه (سترګې به وي) ذلیلې ستړې ستومانه (له نه لیدو د خلل نه).

**تفسیر:** یعنی ممکن دی چه په یوه نیمه کتنه کښې سترګې تیروځي نو ځکه په پوره کوشش سره څو څو ځلې وګوره! چه آیا په کوم ځای کښې کوم چاود ـ کندو ـ خیروالی او رخنه شته؟ ښه غور ـ فکر او دقت وکړه او بیا کتنه پرې وکړه چه د قدرت په انتظام کښې څو چیرې د ګوتې ایښوولو ځای شته؟. په یاد ئې ولرئ! چه ستاسې سترګې له ډیرو کتلو څخنې ستړې ستومانیږي او ذلیلې ـ درمانده خړې پړې به بیرته راګرځي خو د الله تعالیٰ په کاریګرۍ کښې او مصنوعاتو او انتظاماتو به هیڅ عیب او قصور نه شي! ایستلی.

وَلَقَدْ زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيْحَ

او خامخا په تحقیق ښائسته کړی دی مونږ دا آسمان (له ټولو آسمانونو څخه) ډیر نژدې (ځمکې ته) په ډیوو ستوریو سره

**تفسير:** يعنى د آسمان په لورى وګورئ چه د شپى له مخى د ستوريو اشعه پلوشى ـ ځليدل او سينګار په څه رونق او شان سره بريښى ـ دا د قدرت هسى رڼاګانى او ډيوى دى چه د نرى (دنيا) ډيرى ګټى په هغو پورى تړلى دى.

وَجَعَلْنٰهَا رُجُوْمًا لِّلشَّيٰطِيْنِ

او ګرځولى دى مونږ دغه (ډيوى ستورى) ويشتونکى شيطانانو لره

**تفسير:** د (رجم الشياطين) مضمون د (الحجر) په سورت او په نورو ځايونو کښى په تفصيل سره تير شوى دى.

وَاَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابَ السَّعِيْرِ ﴿٥﴾

او تيار کړى دى مونږ دوى لره عذاب ډير سوځوونکى (د دوزخ).

**تفسير:** يعنى په دنيا کښى په شهابو سره ويشتل کيږى او په آخرت کښى دوى لره د دوزخ اور تيار دى!.

وَلِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿٦﴾

او شته دپاره د هغو کسانو چه کافران شوى دى په رب خپل باندى عذاب د جهنم دوزخ او بد مرجع ځاى د ورتللو دى (دا دوزخ).

**تفسير:** يعنى د کافرانو د هستوګنى ځاى له شياطينو سره په همغه دوزخ کښى دى.

اِذَآ اُلْقُوْا فِيْهَا سَمِعُوْا لَهَا شَهِيْقًا وَّهِىَ تَفُوْرُ ﴿٧﴾ تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ الْغَيْظِ ۖ

کله چه وغورځولى شى (کافران) په دغه (اور د دوزخ) کښى واپه ورى دوى دغه (دوزخ لره) آواز لوى بد او هغه به خوټيږى. نژدى به وى (دا دوزخ)

چه توتي توتي شي له جهته د قهره (غضبه پر كفارو باندى).

**تفسير:** يعني په هغه وقت كښي به د دوزخ غږ ډير بد او ويرووونكي وي ـ او په بي انتها خوتيدلو او اشتعال سره به هسي راښكاري لكه چه له ډيري غصي او قهر پوري راؤړي چه اوس به سم د لاسه توتي توتي الوځي (اعاذناالله منها بلطفه وكرمه).

كُلَّمَآ أُلۡقِيَ فِيهَا فَوۡجٞ سَأَلَهُمۡ خَزَنَتُهَآ أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ نَذِيرٞ ۝٨

هر كله چه وغورځوله شي پكښي يوه ډله (د منكرانو) پوښتنه به وكړي (توبيخاً) له هغوى نه خازناني د دوزخ (داسي چه) آيا نه ؤ راغلي تاسي ته (اى منكرانو) ويرووونكي (پيغمبر په دنيا كښي).

**تفسير:** يعني دا پوښتني به د زياتو ذليلولو ـ محجوبولو او خړولو دپاره وي چه تاسي به دي مصيبت كښي ككړ شوي يئ آيا پخوا له دي څخه چا نه وي خبر كړي؟ او نه ئي متنبه كړي او ويرولي وي؟ چه په دي لاره باندي مه ځي، ! كه نه سم به په دوزخ كښي لويږئ چه هلته به داسي سخت سخت عذابونه وي!.

قَالُواْ بَلَىٰ قَدۡ جَآءَنَا نَذِيرٞ فَكَذَّبۡنَا وَقُلۡنَا مَا نَزَّلَ ٱللَّهُ مِن
شَيۡءٍ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا فِي ضَلَٰلٖ كَبِيرٖ ۝٩

نو وبه وائي (منكران داسي چه) هو! په تحقيق راغلي ؤ مونږ ته ويرووونكي (پيغمبر) نو دروغجن وباله مونږ دي او وويل مونږ (هغوى ته چه) نه دي راليږلي الله هيڅ شي نه يئ تاسي مګر په ګمراهي لويه كښي

**تفسير:** يعني خجل او نادم شوي په ډير حسرت او ندامت سره به جواب وركوي چه بيشكه ويرووونكي پيغمبر مونږ ته راغلي و ـ مګر مونږ د هغوى خبري ونه منلي او دوى به مو تل دروغجنول او ورته ويل به مو چه تاسي غلطي خبري كوي ـ نه د الله تعالىٰ له لوري راليږلي شوي يي ـ او نه پر تاسي باندي وحي راځي بلكه تاسي د عقل او پوه له لاري څخه لري تللي يئ او په سخته ګمراهي كښي لويدلي يئ. يا دا خطاب د ملائكو دي كافرانو ته يعني په جواب د كافرانو كښي وبه وائي ملائكي نه وي تاسي په دنيا كښي مګر په ګمراهي لويه كښي.

وَقَالُوا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ أَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِي أَصْحَابِ السَّعِيرِ ⑩

او وبه وائی (منکران) که چیری وی مونږ چه اوریدلی مو (خبری د انبیاؤ په دنیا کښی په سماع القبول سره) یا مو عقل لرلی (په خیر او شر خپل) نو نه به وو مونږ (نن) په اهل ملګرو د دوزخ کښی

**تفسیر:** یعنی مونږ په دی نه پوهیدو چه دا ویروونکی به رښتین راووځی - که مونږ په هغه وقت کښی د کوم پند ورکوونکی خبری اوریدلی وی - او له پوه او عقل څخه مو کار اخیستی وی - او د معاملی په حقیقت باندی پوهیدلی وی نو نن به ولی د دوزخیانو په ډله کښی ګډیدو او تاسی ته به د دی پیغور او طعن ورکولو موقع څه رنګه په لاس درتله؟.

فَاعْتَرَفُوا بِذَنْبِهِمْ ۚ فَسُحْقًا لِّأَصْحَابِ السَّعِيرِ ⑪

نو اقرار ئی وکړ (قائل شول) دوی په ګناه خپلی باندی نو (لری کړی دی دوی لره الله له رحمته) لری والی خاوندانو د دوزخ لره

**تفسیر:** یعنی پخپله دوی اقرار وکړ چه بیشکه مونږ مجرمان یو هسی بی ګناه مونږ په دوزخ کښی نه یو لویدلی خو د دی ناوقته اقرار او اعتراف څخنی هغوی ته هیڅ یوه ګته (نفعه) او فائده نه وررسیږی او هسی ارشاد به کیږی ﴿ فَسُحْقًا لِّأَصْحَابِ السَّعِيرِ ﴾ اوس دی لری او ورک شی او دفعه دی شی دوزخیان» دوی لره د رحمت په شاؤ خوا کښی هیڅ د هستوګنی ځای نه دی پاتی بلکه دوی ته لریوالی دی له مهربانی د الله څخه.

إِنَّ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُم بِالْغَيْبِ

بیشکه هغه کسان چه ویریږی له رب خپل په غیب سره

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ ئی نه دی لیدلی - مګر پر هغه او د هغه په صفاتو باندی پوره باور لری او د هغه د عظمت او د جلال له تصوره ریږدی (رپی) او د هغه د عذاب له خیاله لړځیږی. یا د (بالغیب) مطلب دا دی چه د خلقو له مجمع څخنی جلا (جدا) په عزلت او خلوت کښی هم په پټه سره خپل پروردګار یادوی او د هغه له ویری څخه لړځیدونکی ویریدونکی وی.

لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ كَبِيْرٌ ﴿١٢﴾ وَاَسِرُّوْا قَوْلَكُمْ اَوِ اجْهَرُوْا بِهٖ ؕ اِنَّهٗ
عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿١٣﴾

شته دوی ته مغفرت (د ګناهونو) او اجر ثواب ډير لوی (چه جنت دی). او که پټوئ تاسي خبره خپله او که ښکاروئ (هغه خبره) بيشکه هغه (الله) عليم ښه دانا دی په پټو خبرو د سينو باندی هم

**تفسير:** يعني اګر که تاسي هغه نه وينئ ـ مګر هغه تاسي ويني ـ او ستاسي په هره پټه او ښکاره خبره که په خلوت کښي وی يا په جلوت کښي پوهيږی بلکه پر هغو تولو شيانو باندی هم خبردار دی چه ستاسي په زړونو کښي ګرځي لنده ئي دا چه سره له دی چه الله تعالیٰ ستاسي له سترګو څخني پټ او غائب دی خو بيا هم ستاسي په تولو پټو او ښکاره ؤ باندی پوه او خبردار دی او هيڅ شي تری غائب او پټ نه دی.

اَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ ؕ وَهُوَ اللَّطِيْفُ الْخَبِيْرُ ﴿١٤﴾ ع

آيا نه پوهيږی (په پټو اسرارو د زړونو) هغه (الله) چه پيدا کړی ئی دی (زړونه بلکه هر شي ورمعلوم دی) او همغه (الله) دی عليم دانا (په پټو اسرارو) ښه خبردار دی (په ظواهرو د موجوداتو هم).

**تفسير:** يعني ستاسي او ستاسي د افعالو او اقوالو د هر څيز خالق او مختار هم همغه الله تعالیٰ دی کله چه خالق او مختار کوم شي پيدا کوی نو خامخا په هغه باندی پوه او خبردار او پوره عالم هم وی که نه پيدا کول ناممکن دی او داسي امکان نه لری چه يو شي ئی جوړ کړی وی خو پری ونه پوهيږی.

هُوَ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ ذَلُوْلًا فَامْشُوْا فِيْ مَنَاكِبِهَا
وَكُلُوْا مِنْ رِّزْقِهٖ ؕ وَاِلَيْهِ النُّشُوْرُ ﴿١٥﴾

دغه (الله) همغه ذات دی چه ګرځولی ئی ده تاسي ته ځمکه پسته تابعداره نو ځئ ګرځئ تاسي په اوږو اطرافو لارو د دی ځمکي او خورئ تاسي له (حلال) رزق د دغه (الله) او خاص دغه (الله) ته بيا ژوندی راپورته کيدل ستاسو دی

(پس له مرګه).

**تفسیر:** یعنی ځمکه ئې ستاسی په مقابل کښې داسې نرمه ـ پسته ـ ذلیله مسخره او منقاده ګرځولې ده چه هر څه وغواړئ په هغې کښې تصرف کولی شئ او په هغې باندې او د هغې پر غرونو باندې ځئ او راځئ ـ او ترې خپل خوراک څښاک او نور ضروریات ګټئ مګر دومره په یاد ولرئ هغه څوک خواړه او نور شیان درکوي د همغه په لوري پس له مرګه او بیا ژوندي پاڅیدلو ستاسې بیا ورتګ دی.

ءَاَمِنۡتُمۡ مَّنۡ فِی السَّمَآءِ اَنۡ یَّخۡسِفَ بِکُمُ الۡاَرۡضَ فَاِذَا ہِیَ تَمُوۡرُ ﴿۱۶﴾

آیا مأمون ډاډه شوي یئ تاسې له هغه (الله) څخه چه په آسمانونو کښې دی (په زعم ستاسې ای منکرانو) چه راپورته به کړي په تاسې باندې ځمکه (او ډوب به مو کړي پکښې) بیا به (ناڅاپه) هلته دا (ځمکه) ولړزیږي وخوځیږي

**تفسیر:** ړومبې ئې انعامات راښوولي ؤ اوس د قهر انتقام او د پوښتنې شان راښیي او ویرول ئې مقصود دي یعنې بیشکه ځمکه تاسې لره تابعه او مسخره شوې ده مګر په یاد ئې ولرئ چه په هغې باندې حکومت د همغه د آسمان د څښتن (خاوند) دی چه که وغواړي تاسې په ځمکه کښې داسې خښوي چه له چار چاپیره به ځمکه دربانډې پورته کوي او په هغه وقت کښې به ځمکه ولړځیږي او تاسې د هغې په هم دا خوزیدلو سره پکښې ډوبیږي نو څکه سړي لره نه ښائي چه د هغه خالق مختار له دربار څخه بې ویرې او بې پروا شي ـ او په شرارت باندې لاس پوري کړي او د هغه په ډیل او معطلې باندې مغرور شي!.

اَمۡ اَمِنۡتُمۡ مَّنۡ فِی السَّمَآءِ اَنۡ یُّرۡسِلَ عَلَیۡکُمۡ حَاصِبًا ؕ

آیا مأمون ډاډه شوي یئ تاسې له هغه (الله) څخه چه په آسمانونو کښې دی (په زعم ستاسې) له دې نه چه وبه لیږي په تاسې باندې کاڼي ویشتونکې باد

**تفسیر:** یعنې په ډیره خوښۍ سره په ځمکه باندې ځئ راځئ ـ او خواړه او نور ضروریات ځان ته ګټئ خو سره له هغه خپل الله تعالیٰ مه هیروئ. که نه هغه الله تعالیٰ په دې باندې قادر دی چه پر تاسې باندې یوه سخته سیلۍ درولیږي یا د کاڼو باران دربانډې اوروي ـ نو بیا به تاسې څه وکړلی شئ او ستاسې به دا ګرد (تول) ځغلیدل ـ لاندې باندې کیدل په ځای پاتې کیږي.

فَسَتَعۡلَمُوۡنَ كَيۡفَ نَذِيۡرِ ﴿۱۷﴾

نو ژر ده چه پوه به شئ تاسی چه څه رنګه وو ویرول ځما

**تفسیر:** یعنی له هغه عذابه چه تاسی ویرؤل کیږئ هغه څومره تباه کوونکی او ویروونکی ؤ؟.

وَلَقَدۡ كَذَّبَ الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ فَكَيۡفَ كَانَ نَكِيۡرِ ﴿۱۸﴾

او خامخا په تحقیق دروغجن کړی ؤ (کفارو خپل انبیاء) چه پخوا له دغو (کفارو د مکی) څخه ؤ نو څه رنګه وو انکار عذاب ځما

**تفسیر:** یعنی له عاد او ثمود او له نورو سره کومه معامله چه شوی ده له هغی ځنی عبرت واخلئ! او وګورئ چه د هغوی په حرکاتو باندی هم مونږ انکار کړی ؤ نو هغه ځمونږ انکار څه رنګه د عذاب په صورت ورښکاره شو؟.

اَوَلَمۡ يَرَوۡا اِلَى الطَّيۡرِ فَوۡقَهُمۡ صٰٓفّٰتٍ وَّيَقۡبِضۡنَ ۘؕ مَا يُمۡسِكُهُنَّ اِلَّا الرَّحۡمٰنُ ؕ اِنَّهٗ بِكُلِّ شَىۡءٍۢ بَصِيۡرٌ ﴿۱۹﴾

آیا نه ګوری دوی مرغانو ته (په هوا کښی) له پاسه د سرونو د دوی پرانیځی وزرونه او تولوی (وزرونه خپل) نه نیسی نه ساتی دوی په هوا کښی له پریوتو مګر خو رحمٰن (ئی ساتی په رحمت او قدرت خپل) بیشکه هغه (الله) په هر څیز باندی بینا ښه لیدونکی دی.

**تفسیر:** پرومبی د آسمان او د ځمکی ذکر شوی ؤ دلته د هغو د منځ د شیانو ذکر دی. یعنی د الله تعالیٰ قدرت ته وګورئ چه مرغان د ځمکی او د آسمان په منځ کښی کله خپل وزرونه غوړوی او پرانیځی او خواره ئی کړی څرنګه ورسره الوځی؟ او کله ئی تولوی او سره له دی چه د ثقیل جسم او د درنی بنی او بشری خاوندان او مائل‌الی‌المرکز دی خو بیا هم هغوی لاندی نه رالویږی. او نه د ځمکی جاذبه قوت هغه وړوکی مرغه د خپل ځان په لوری راښکلی شی. وښیه پرته (علاوه) له الله تعالیٰ د چا قدرت لاس هسی دی؟ چه هغه ئی په فضاء او تشتیا کښی هسی ساتلی دی؟ بیشکه رحمٰن پخپل رحمت او حکمت سره د هغوی بنی (شکلونه) هسی جوړی کړی دی او په هغویَ کښی ئی داسی یو قوت ایښی دی چه د هغه په وسیله هغوی بی تکلفه په هوا

کښې ځو ځو ګړی الوتلي او ګرځیدلي شي همغه د هر یوه څیز په استعداد باندې ښه پوهیږي او ګرد (تول) مخلوق تر خپل نظر لاندې ساتي ښائي د مرغانو د مثال له بیان کولو ځني دلته د دې په لوری هم اشاره ده چه الله تعالیٰ په دې باندې هم قادر دی چه له آسمانه عذاب راولیږي او کافران د خپلو شرارتونو له سببه د دې عذاب مستحق او لائق دي. خو څه رنګه چه د الله تعالیٰ رحمت مرغان په هوا کښې ساتي د هغه رحمت له هغوی ځني عذاب هم همغسې لرې کړی دی.

أَمَّنْ هَٰذَا الَّذِي هُوَ جُندٌ لَّكُمْ يَنصُرُكُم مِّن دُونِ الرَّحْمَٰنِ ۚ إِنِ الْكَافِرُونَ إِلَّا فِي غُرُورٍ ﴿٢٠﴾

آیا څوک دی هغه (ذات) چه هغه لښکر ستاسې شي کومک مرستي (مدد) وکړی له تاسې سره (هیڅوک مو مددګار نشته) بې له رحمٰن نه دي کافران مګر خو په غرور غولیدلو کښې دي

**تفسیر:** منکران سخت غولیدلي دي که هغوی داسې ګڼي چه د هغوی باطل خدایان او د فرضي بتانو لښکري دوی د الله تعالیٰ له عذابه او له راتلونکي آفت ځني ژغورلي (بچ کولي) شي؟ ښه وپوهیږئ چه له رحمانه جلا (جدا) شوی هیڅوک به هغوی ته مدد او مرستي (امداد) ونه رسوي!

أَمَّنْ هَٰذَا الَّذِي يَرْزُقُكُمْ إِنْ أَمْسَكَ رِزْقَهُ ۚ

آیا څوک دی هغه (ذات) چه رزق درکړي تاسې ته که چیري بند کړي (الله) درڅخه رزق خپل (هیڅوک مو بې له الله رازق نشته)

**تفسیر:** یعنې که الله تعالیٰ د خوړو سامان او اسباب دربند کړي نو څوک به طاقت ولري چه په تاسې باندې د خوړو وړونه پرانیځي؟

بَل لَّجُّوا فِي عُتُوٍّ وَنُفُورٍ ﴿٢١﴾

بلکه ننوتلي او محکم شوي دي دوی په سرکشي عناد او تیښته نفرت کښې (له حقه).

**تفسیر:** یعنی دا خلق پخپلو زړونو کښې پوهیدل چه له الله تعالیٰ ځنی جلا (جدا) پاتی شوی نه د چا د نقصان مخه نیولی شي او نه چاته گټه (فائده) رسولی شي. مگر یواځې د شرارت او سرکشی لامله (له وجی) کله چه د توحید او اسلام په لوری راوبللی شي نو تور خوری او یاغی کیږی.

اَفَمَنْ يَّمْشِيْ مُكِبًّا عَلٰى وَجْهِهٖٓ اَهْدٰٓى اَمَّنْ يَّمْشِيْ سَوِيًّا عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٢٢﴾

آیا پس هغه څوک چه ځی نسکور په مخ خپل باندی ښه لار موندونکی وی یا هغه څوک چه ځی. برابر سم په لاری سمی باندی.

**تفسیر:** یعنی د ظاهری کامیابی لاری طی کوی همغه تر اصلی مقصد پوری رسیدی شی چه په سمه لاره باندی د سریو په شان برابر لاړ شی هغه څوک چه په کږه لاره لکه ړانده نسکور ځی نو هغه د مقصود تر منزل پوری نشی رسیدلی دا د یوه موحد او د یوه مشرک مثال دی. په قیامت کښې د دوی دواړو په ورتگ کښې هم داسی فرق لیده کیږی.

قُلْ هُوَ الَّذِيْٓ اَنْشَاَكُمْ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ۭ قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ﴿٢٣﴾

ووایه (ای محمده!) دغه (الله) هغه ذات دی چه پیدا کړی ئی یئ تاسی او درکړی گرځولی ئی دی تاسی ته غوږونه (دپاره د سماعت اوریدلو د حق) او سترگی (دپاره د بصارت لیدلو د حق) او زړونه (لپاره د بصیرت پیژندلو د حق) ډیر لږ شکر وباسئ تاسی (په دغو ډیرو نعماؤ د الله).

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ د اوریدلو دپاره غوږونه او د لیدلو دپاره سترگی او د پوهیدلو دپاره زړونه راکړی دی تر څو د هغه حقونه ومنو او دا قوتونه په ښه لاره کښې مصروف کړو او د هغه طاعت او فرمان برداری وکړو مگر داسی شکرگزاره سری ډیر لږ دی کافرانو ته وگورئ چه هغوی د دی نعمتونو حق څه رنگه په ځای راوړی؟ او د الله تعالیٰ دا ورکړی شوی قوتونه د هغه الله تعالیٰ په مقابل څنگه استعمالوی؟.

قُلْ هُوَ الَّذِيْ ذَرَاَكُمْ فِي الْاَرْضِ وَاِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۲۴﴾

ووایه (ای محمده!) دغه (الله) هغه ذات دی چه پیدا (خواره) ئی کړیٔ تاسی په ځمکه کښې (دپاره د عبادت) او خاص ده ته به راټول کړل شیٔ تاسی (تول لپاره د حساب او جزاء په قیامت کښې).

**تفسیر:** یعنی ابتدا هم له هغه څخه شوی ده او انتهاء به هم پر هغه وی. له هر ځایه چه راغلی یئ هلته به بیرته ځیٔ بایده ؤ چه له هغه څخنی یوه شیبه (لحظه) هم نه غافلیدیٔ او هر وقت د هغه په فکر او یاد کښې ویٔ. او زیار (کوشش) وکړیٔ تر څو د هغه مالک په مخ کښې تش لاس ونه دریږی مګر داسی بندګان ډیر لږ دی.

وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۲۵﴾

او وائی دغه (کفار مؤمنانو ته په تمسخر سره) کله به وی دا وعده (د حشر) که چیری یئ تاسی صادقان رښتینی (په دغه ویلو کښې نو مونږ پوه کړه په زمانه د راتلو د قیامت)

**تفسیر:** یعنی مونږ او تاسی به کله تولیږو؟ او د الله تعالیٰ په حضور تول کله سره څو؟ او قیامت به کله وی؟ او ژر ئی راښکاره کړه!

قُلْ اِنَّمَا الْعِلْمُ عِنْدَ اللّٰهِ ۪ وَاِنَّمَآ اَنَا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۲۶﴾

ووایه (ای محمده! دغو منکرانو ته) بیشکه د دی خبری یوه خبر (چه قیامت کله قائمیږی) په نزد د الله دی او بیشکه (خبره دا ده چه) زه ویروونکی یم ښکاره (له جحیمه او نه یم خبر په وقت د راتلو د قیامت باندی)

**تفسیر:** یعنی د قیامت وقت او مهال زه تاکلی (مقررولی) نه شم د هغه علم له الله تعالیٰ سره دی. هو هغه شی چه په یقین سره راتلونکی دی له هغه څخنی پوهول او د هغه له ویروونکی مستقبل څخنی ډارول ځما فرضی کار دی چه زه ئی ادا کوم

فَلَمَّا رَأَوْهُ زُلْفَةً سِيٓـَٔتْ وُجُوهُ الَّذِينَ كَفَرُوا وَقِيلَ
هَٰذَا الَّذِي كُنتُم بِهِ تَدَّعُونَ ﴿٢٧﴾

پس کله چه ووینی دوی هغه (عذاب قیامت) ډیر نژدی نو بد شکله تور به شی مخونه د هغو (کسانو) چه کافران شوی دی او وویل به شی (دوی ته) دا همغه (عذاب) دی چه وی، به تاسو چه دغه مو (ژر) غوښتلو (په دنیا کښی).

**تفسیر:** یعنی اوس خو د هغه د راتګ په نسبت شور لګوی، خو کله چه هغه تاکلی (مقرر) وقت ورنژدی شی د ډیرو لویو یاغیانو او سرکشانو خولی به چینګی پاتی کیږی او په ویجاړو (ورانو) مخونو بدو اشکالو او وچو شونډو به هک پک اریان په ړډو سترګو ورته ګوری او هیڅ به ئی له لاسه نه وی پوره

قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَهْلَكَنِيَ اللَّهُ وَمَن مَّعِيَ أَوْ رَحِمَنَا فَمَن
يُجِيرُ الْكَافِرِينَ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢٨﴾

ووایه (ای محمده ! دغو منکرانو ته) آیا وینئ خبر راکړئ تاسی ماته که چیری هلاک می کړی الله او هغه څوک چه څما سره دی (لکه چه تاسی د دی قصد کړی دی) یا رحم وکړی (الله) پر مونږ باندی په طول د عمر پس څوک دی چه وبه ژغوری (بچ به کړی) خلاص به کړی کافران له عذابه دردناکه څخه.

**تفسیر:** کفارو به تمنا کوله چه که محمد صلی الله علیه وسلم ژر مړ شی نو دا قصه به پای ته ورسیږی (العیاذ بالله) د هغه جواب داسی ورکوی چه فرض ئی کړی، که سم د ستاسی له اتکله محمد صلی الله علیه وسلم او د ده ملګری رضی الله تعالیٰ عنهم مړه شی یا سم څمونږ د مسلمانانو له عقیدی سره محمد صلی الله علیه وسلم او د ده ملګری د الله تعالیٰ په رحمت بریالیان (کامیاب) او مراد مونډونکی شی نو په دی دواړو صورتونو کښی هر یو چه وی چه له هغی څخنی تاسی ته هیڅ یوه ګټه (نفعه) او فائده نه رسیږی څمونږ انجام په دنیا کښی هر څه چه وی خو آخرت مو ډیر ښه دی څکه چه مونږ په دی لاری کښی جداوجهد کوو. لیکن تاسی د خپلو ځانونو فکر وکړی چه په دی کفر او سرکشی سره تاسی به له هغه درد رسوونکی عذاب څخه چه راتلونکی دی څوک وژغوری (بچ کړی) ؟ څمونږ فکر او اندیښنه پریږدی، پخپل فکر

کېږي ولوېږي ولي چه کافران په هيڅ دول (طريقه) د الله تعالیٰ له عذابه ژغوريدونکي (بچ کيدونکي) نه دي.

قُلْ هُوَ الرَّحْمٰنُ اٰمَنَّا بِهٖ وَعَلَيْهِ تَوَكَّلْنَا ۚ

ووايه (اى محمده دغو منکرانو ته الله) رحمان دی چه ايمان مو راوړی دی پر هغه (رحمان) باندی او پر همغه (رحمان) باندی توکل کړی دی مونږ (په تولو کارونو خپلو کښې)

**تفسير:** يعنى څنګه چه څمونږ ايمان په هغه الله تعالیٰ باندی دی نو د هغه په مرسته (مدد) څمونږ ژغورنه (نجات) يقينى ده او کله چه مونږ په صحيحى معنى سره پر هغه الله تعالیٰ باندی اسره او توکل لرو په ګردو (تولو) مقاصدو کښې مو بری او کاميابى يقينى ده. ﴿وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَهُوَ حَسْبُهٗ اِنَّ اللّٰهَ بَالِغُ اَمْرِهٖ﴾ او هر کله چه په تاسو کښې دا دواړه نشته نه ايمان او نه توکل ـ نو څه رنګه به تاسی بې فکره يئ؟.

فَسَتَعْلَمُوْنَ مَنْ هُوَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٢٩﴾

نو ژر به پوه شي تاسی په (وقت د ليدلو د عذاب کښې) چه څوک دی هغه (چه لويدلی دی) په ګمراهي ښکاره کښې (له مؤمنانو او کافرانو)

**تفسير:** يعنى مونږ مؤمنان داسی يو چه ستاسی ګمان دی يا تاسی منکران همغسی يئ چه څمونږ عقيده ده.

قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَصْبَحَ مَآؤُكُمْ غَوْرًا فَمَنْ يَّاْتِيْكُمْ بِمَآءٍ مَّعِيْنٍ ﴿٣٠﴾ ع

ووايه (اى محمده دغو منکرانو ته) آيا وينئ خبر راکړئ تاسی ماته که چيرى ګهيځ (سحر) وګرځي اوبه ستاسی ښکته (په ځمکه کښې ننوتلی ورکی) نو څوک دی هغه چه راولی تاسی ته اوبه روانی شفافی پاکی صافی.

**تفسير:** يعنى د مرينى او ژوندون ګرد (تول) اسباب د هغه الله تعالیٰ د قدرت په لاس دی يوه اوبه د مثال په دول (طريقه) واخلئ چه په هغه باندی هر شي ژوندی دی. فرض ئی کړئ که د چينو ـ ويالو ـ کوهى او نورو اوبه وچی شي او د ځمکی لاندنی عمق او تل ته ورښکته شي لکه

چه زیاتره د تودوخې په موسم کښې پیښیږي نو د چا له لاسه به پوره وی چه لکه مرغلرې غوندې جاري پاکې رنې او صافې اوبه په زیاته اندازه سره راپیدا کړی چه ستاسې ژوندون او بقاء لره کافي وي. نو ځکه یو متوکل مؤمن لره ښائي چه په هغه خالق الکل مالک علی الاطلاق باندې هیله (امید) او اسره ولري. له هم دې ځایه وپوهیږئ کله چه د هدایت ګردی (تولی) چینې وچې شوی دی نو په دغه وقت کښې د هدایت او د معرفت نه وچیدونکی چینه د محمد صلی الله علیه وسلم په مبارک صورت بهول هم د هغه مطلق رحمٰن کار دی چه د خپل فضل او انعام ځنې د ګردو (تولو) ذوي الارواحو او ساکښانو (جاندارو) د ظاهري او باطني ژوندون سامان پیدا کړی دی که په فرض محال سره دا چینه وچه شي لکه چه د اشقیاؤ تمنا ده نو څوک به وی چه مخلوقاتو لره داسې صافي شفافي اوبه راپیدا کړی شي؟.

## تمت سورة الملک بفضل الله وکرمه ومنه

سورة القلم مکية الا من آية (۱۷) الی غاية آية ۳۳ ومن آية (٤٨) الی غاية (٥٠) فمدنية وهي اثنتان وخمسون آية وفيها رکوعان رقمها (٦٨) تسلسلها حسب النزول (۲) نزلت بعد سورة العلق.

د «القلم» سورت مکي دی پرته (علاوه) له (۱۷) آیته تر ۳۳ آیت پورې او له (٤٨) آیت څخه تر (۵۰) آیت

پورې چه مدني دی (۵۲) آیتونه او دوه رکوع لري په تلاوت کښې (۶۸) او په نزول کښې دوهم سورت دی

وروسته د «العلق» له سورت څخه نازل شوی دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

نٓ وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُوْنَ ﴿۱﴾ مَآ اَنْتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُوْنٍ ﴿۲﴾

قسم دی په قلم او په هغه څه چه دوی ئې لیکي چه نه ئې ته (ای محمده!) په نعمت (فضل انعام) د رب خپل سره لیوني

**تفسیر:** د مکي مشرکانو پیغمبر ته (العیاذ بالله) لیوني ویل ځینو به ویل چه په دوی باندې د شیطان اثر لویدلی دی چه داسې یو ناڅاپه له ګرد (تول) کور کهول او ټبر څخه جلا (جدا)

شوی داسی غتی خبری کوی چه هیڅوک ئی نشی منلی ـ حق تعالیٰ د دی باطل خیال تردید او د خپل پیغمبر تسلی وفرمایله ـ یعنی پر هغه چا باندی چه د الله تعالیٰ دومره لوی فضل او انعام شوی وی چه د هغه مشاهده هر لیدونکی په ښه شان سره کولی شی ـ مثلاً اعلیٰ درجی فصاحت د حکمت او د پوهنی خبرو ئی د مخالفینو او موافقینو په زړونو کښی ډیر قوی تاثیر اچولی دی او سره د داسی لوړی (اوچتی) رشی (خوی) او ښو اخلاقو دوی ته لیونی ویل پخپله د ویونکی لیونتوب نه دی؟ په دنیا کښی ډیر لیونیان او اعلیٰ درجه مصلحان تیر شوی دی چه هغوی ته به هم ړومبنیو خلقو لیونی ویل مگر د هغو د تاریخی معلوماتو هغه ذخیره چه د قلمونو په وسیله د پانو په منځ کښی لیکلی شوی ده په لوړ (اوچت) غږ سره شاهدی لولی چه د دی رښتینو لیونیانو او د هغو بللی شویو لیونیانو سریو د ژوندانه د حالاتو په منځ کښی څومره د ځمکی او د آسمان فرق او توپیر (تفاوت) شته؟ نن ځمونږ د پیغمبر (العیاذ بالله) لیونی بلل بالکل داسی دی لکه د دنیا د گرد (تول) جلیل القدر اولوالعزم مصلحین په هره زمانه کښی ناپوهانو او شریرانو لیونیان بلل. خو څرنگه چه تاریخ د هغو مصلحانو په لوړو (اوچتو) کارونو باندی دوام او د بقاء مهرونه ثبت او لگولی دی او د هغو لیونی ویونکیو نومونه او نښی هم نه دی پاتی نژدی دی چه قلم او د هغه په وسیله سره لیکلی شوی لیکی د محمدی ذکر خیر ـ او بی مثاله چاری ـ او علوم او معارف هم د همیشه دپاره تل لیکلی وساتی او د هغو کسانو نومونه او نښی به په دنیا کښی پاتی نشی چه دوی ئی لیونی ښوول. یو وقت داسی هم په دنیا کښی راتلونکی دی چه توله دنیا به د محمدی صلی الله علیه وسلم د حکمت ـ معارف او پوهنی ستاینه (صفت) کوی او د دوی ذات به لکه یوه ډیر ښه کامل انسان په شان د یوی اجتماعی عقیدی په دول (طریقه) ومنی کله چه د چا لوړوالی (اوچت والی) او لوئی او فضیلت قدوس الله تعالیٰ په ازل الازال کښی پخپل نورانی قلم سره د لوح محفوظ پر تختی باندی نقش کړی وی نو څوک به طاقت ولری چه یواځی د مجنون او د مفتون په ناکاره تشبیهاتو سره د هغه لیک یوه څنده (غاړه) هم محو او وتورلی شی؟ هغه څوک چه داسی خیال لری هغه خورا (ډیر) جاهل او مجنون او ډیر ناپوه او لیونی دی.

وَإِنَّ لَكَ لَأَجْرًا غَيْرَ مَمْنُونٍ ﴿۳﴾

او بیشکه چه دی خاص تا لره خامخا اجر بدل ثواب بی انتهاء

**تفسیر:** یعنی تاسی مه خپه کیږی د دوی له دی لیونی بللو څخه ستاسی اجر او ثواب زیاتیږی او ستاسی غیرمحدود هدایت فیض انسانی بنی‌نوعو ته رسیدونکی دی. او د هغو بی انتهاء ثواب تاسی ته رسیدونکی دی آیا د لیونیانو او پاگلانو مستقبل به هسی روڼ او شاندار او پایدار وی؟ لکه چه ستاسی دی؟. یا د کوم لیونی طرز عمل او پروگرام او د عمل لاری داسی بری موندی شی

لکه چه ستا دا د طریق او تګ په برې سره پائ ته رسیږي؟ لکه چه د چا رتبه د الله تعالیٰ په دربار کښې دومره لوړه (اوچته) وي نو که هغه ته څو احمقان لیوني ووائي څه پروا ده ؟.

وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ ﴿٤﴾

او بیشکه چه ئې ته (ای محمده) هرومرو (خامخا) په خلق خویونو (دین ډیر لوی باندی).

**تفسیر:** یعنی په هغو اعلیٰ اخلاقو او ملکاتو سره چه د الله تعالیٰ له جانبه تاسی ستایلی شوی یی کله په لیونیانو کښې د هسی ښو خویونو تصور کاوه شي؟ د یوه لیوني په خبرو ـ اترو ـ کار ـ روزګار کښې هیڅ کله د نظم او ترتیب اثر نه لیدل کیږی او نه خبری یی پر چارو باندی منطبقي وي. او حال دا دی چه ستاسی په مبارکه ژبه باندی پاک قرآن چلیږی او ستا ښه اعمال ـ افعال او اخلاق د هغه بی غږه تفسیر دی. پاک قرآن د هغو ښیګنو (خوبیانو) او محاسنو ته چه دعوت او بلنه کوی هغه ګرد (تول) ستاسی په وجود کښې فطرتاً شته. او د هغو بدو چارو ـ خرابی او معایبو څخنی چه امتناع او رټنه کوی هغه طبعاً هیڅ ستاسی په وجود کښې نشته او تاسی بیخی له هغو څخنی لری ګرځی او تری بیزار یئ او منفور ئی ګڼئ. ستاسی د پیدایښت ډول (طریقه) ـ ساخت او تربیت داسی واقع شوی دی چه ستاسی هیڅ یو حرکت او هیڅ یو کار او شی د تناسب او اعتدال څخه یو بخرکی هم دی خوا هغی خوا ته وړاندی وروسته نه ځی ستاسی ښه اخلاق تاسی ته اجازه نه درکوی چه د جاهلانو او سپکو او ناپوهو خلقو هسی طعن او تشنیع او چتی (بیکاره) خبرو ته غوږ کیږدی د هغه چا چه خلق دومره عظیم او د نظر مطمح دومره لوړ وی نو هغه به څرنګه د یوه لیونی په لیونی ویلو سره خپل چرت (خیال) خرابوی؟ تاسی خو د هغه چا چه تاسی ته به ئی لیونی ویل په ښیګنه (فائده) نیکخواهی او دردمندی پسی دومره ګرځیئ چه د هغوی لامله (له وجی) په ربړو (تکلیفونو) ـ کړاونو کښې مو ځان ویلی کړی وی او په ﴿ فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ ﴾ سره مخاطب شوی یئ په حقیقت کښې له ګردو (تولو) څخنی زیات د اخلاقو د لوینی او عظمت خورا (ډیره) زیاته ژوره خبره خو دا ده چه سړی د دنیا د دی حقیرو شیانو د معاملی په وقت کښې له الله تعالیٰ څخنی غافل او ذاهل نشی ـ تر څو چه دغه خبره د چا په زړه کښې وی د هغه ګردی (تولی) معاملی او چاری د عدالت او اخلاقو په تله کښې په ښه شان سره تللی کیږی. شیخ جنید بغدادی رحمة الله علیه څرنګه ښه فرمایلی دی «**سمی خلُقه عظیماً اذ لم تکن له همة سوی الله تعالی،عاشر الخلُق بخلقه وزایلهم بقلبه فکان ظاهره مع الخلق و باطنه مع الحق**» او د ځینو حکیمانو په وصیت کښې راغلی دی

**علیک بالخلُق مع الخلُق وبالصدق مع الحق**» له خلق او له خالق سره په ښه خلق او ښه

عمل اوسه!.

فَسَتُبۡصِرُ وَيُبۡصِرُونَ ۝٥ بِأَييِّكُمُ ٱلۡمَفۡتُونُ ۝٦

پس ژر به ووینی ته (ای محمده!) او وبه وینی دغه (منکران هم) چه په کوم یوه له تاسو څخه لیونتوب دی

**تفسیر:** یعنی په زړه کښې پخوا له دی نه تول ښه پوهیدل لیکن عنقریب دواړو ته به په کتنه سره هم ورښکاره شی چه د دوی په منځ کښې کوم یو هښیار ـ عاقبت اندیش او په وروستنی اندیښنه کښې و؟ او کوم سړی ناپوه او بی سده (بی عقله) و؟ چه د هغه لامله (له وجی) ئې لکه لیونیان چتی چتی (بیکاره بیکاره) خبری کولی.

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ۝٧

بیشکه رب ستا چه دی همغه ته ډیر ښه معلوم دی هغه څوک چه گمراه شوی دی له لاری د ده څخه او همغه (الله) ته ښه معلوم دی لار موندونکی (چه مؤمنان دی).

**تفسیر:** یعنی پوره علم خو له الله تعالیٰ سره دی چه کوم یو په لار راتلونکی دی؟ او کوم یو له لاری څنی چپ (غلط) درومی؟ لیکن نتایج گردو (تولو) ته ښکاره کیدونکی دی او تول به سره پوهیږی چه څوک بریالی (کامیاب) دی او څوک د شیطان په لمسون پاتی او نامراد شوی دی.

فَلَا تُطِعِ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ۝٨ وَدُّواْ لَوۡ تُدۡهِنُ فَيُدۡهِنُونَ ۝٩

نو ته مه منه (خبره) د دروغجن کوونکیو خوښوی دوی چه که ته نرمی کوی (له دوی سره) نو دوی به هم نرمی کوی (له تاسره)

**تفسیر:** یعنی په لار راتلونکی او بی لاری گرد (تول) د الله تعالیٰ په محیط علم کښې تاکلی (مقرر) شوی دی نو څکه د دعوت او د تبلیغ په معامله کښې د مخ اړولو او د رعایت دومره ضرورت نشته څوک چه د لار موندلو وړ (قابل) وی هغه هرومرو (خامخا) لار مومی. او هغه چه ازلی محروم وی هغه په هیڅ لحاظ او مروت سره منونکی نه وی د مکی کافرانو به څمونږ پیغمبر ته ویل چه تاسی د بت پرستی په نسبت خپله دا سخته رویه ترکه کړی! او څمونږ د معبودانو

بیخی تردید مه کوی تر څو مونږ هم ستا د الله تعظیم وکړو! او ستاسی د طور ـ طریق ـ مسلک ـ مشرب ـ او له دین سره متعرض نه شوو امکان لری چه د یوه اعظم مصلح په زړه کښې چه په «عظیم خلق» سره پیدا شوی وی د ښه نیت له خوا داسی یو فکر یا خیال پیدا شی څنګه چه د لږ نرمی له غوره کولو کار چلیږی نو د څه مدت له مخی د دی پاسته تګ له غوره کولو ځنی به څه نقص راپیښیږی؟ نو ځکه حق تعالیٰ تنبیه ورته وفرمایله چه تاسی د دی دروغجنانو خبرو ته غوږ مه ږدئ! د دوی مقصد دا دی چه تاسی د کفر په نسبت پاسته اوسئ! ایمان راوړل او صداقت منل د هغوی مقصد نه دی. او ستاسی د بعثت اصلی مقصد په دی ډول (طریقه) سره په لاس نه راځی. تاسی د هر لوری ځنی سترګی واړوئ او خپله وظیفه او فرض ادا کړئ تاسی د دی خبری ذمه وار او اجاره دار نه یئ چه څوک یی منی؟ که ئی نه منی؟

**تنبیه:** د مداهنت او د (مدارات) په منځ کښی نری فرق شته مداهنت مذموم او مدارات محمود دی فلا تغفل.

---

وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ مَّهِينٍ ﴿١٠﴾

---

نو ته خبره مه منه د هر ډیر قسم خوړونکی سپک (یا د دروغجنو ځکه چه دروغجن سپک وی په خلقو کښی).

---

**تفسیر:** یعنی د چا په زړه کښی چه د الله تعالیٰ د نامه عظمت نه وی نو د دروغو قسم خوړل هغه ته یوه خوشی خبره ښکاری ـ کله چه خلق د هغه په خبرو باور نه کوی نو ځکه د هغو د یقین راوړلو دپاره څو څو ځلی قسمونه خوری او ځان په دی وسیلی سره ذلیل او بی قدره کوی.

---

هَمَّازٍ مَّشَّآءٍۭ بِنَمِيمٍ ﴿١١﴾ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ ﴿١٢﴾ عُتُلٍّۭ بَعْدَ ذَٰلِكَ زَنِيمٍ ﴿١٣﴾

---

عیب ویونکی تلونکی په چغلی سره منع کوونکی د خیر له حده تیریدونکی (په ظلم کښی) ډیر ګنهکار بدخوی سخت ویونکی وروسته له دی تولو عیبو حرام زاده

---

**تفسیر:** یعنی سره د دی خصلتونو بدنام او بد انجام او د خاص او عام رسوا هم وی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی چه «دا ګرد (تول) د کافرانو وصف دی سری دی دننه خپل ځان ته ګوری که چیری هسی کوم خصلت پکښی وی هغه دی پریږدی!»

**تنبیه:** د «زنیم» معنی د ځینو اسلافو په نزد ولدالزنا او حرامزاده دی. د هغه کافر په نسبت چه دا آیت نازل شوی دی هغه هم داسی و چه ولید بن مغیرة نومیده او د مکی معظمی یو لوی مشر سری او د اسلام سخت دښمن و.

أَن كَانَ ذَا مَالٍ وَبَنِينَ ﴿١٤﴾

د دی دپاره چه دی و خاوند د مال او د ځامنو.

**تفسیر:** یعنی که یو سړی په دنیا کښی طالعمن او خوش قسمت وی لکه چه مال دولت ځامن او شته ولری نو یواځی په دی سره د دی وړ (لائق) نه دی چه د هغه هره خبره ومنله شی. اصلی شی په انسان کښی شرافت نجابت ـ او ښه اخلاق دی ځکه چه شرافت او ښه اخلاق نه لری ښو مسلمانانو لره نه ښائی چه د هغه خبری ته غوږ وباسی یا ئی په غولونکیو چارو باندی تیروځی.

إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ آيَاتُنَا قَالَ أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿١٥﴾

کله چه ولوستل شی په ده باندی آیتونه (د قرآن) ځمونږ نو وائی دا قصی نقلونه دی د پخوانیو. (خلقو)

**تفسیر:** یعنی د الله اکرم شانه واعظم برهانه خبری په داسی ویناؤ سره دروغ ګڼی.

سَنَسِمُهُ عَلَى الْخُرْطُومِ ﴿١٦﴾

ژر دی چه داغ به کیږدو ده لره پر پوزه (خلتم) باندی (تحقیراً).

**تفسیر:** وائی ولید بن مغیرة د قریشو یو سردار و چه په هغه کښی دا ګرد (تول) اوصاف مجتمع ؤ پر پوزه او خلتم باندی ئی له داغ ورکولو څخه د هغه رسوائی مختوروالی او سپکتیا مراده ده ښائی چه په دنیا کښی په حسی ډول (طریقه) کوم داغ په ده باندی هم لویدلی وی یا به په آخرت کښی ورباندی خیژی.

إِنَّا بَلَوْنَاهُمْ كَمَا بَلَوْنَا أَصْحَابَ الْجَنَّةِ ج

بیشکه مونږ ومو ازمویل دغه (مکیان په قحط سره) لکه چه ازمویلی ؤ مونږ

خاوندان د باغ.

**تفسیر:** یعني د مال او د اولاد زیادت د کوم مقبولیت علامت او نښه نه ده او د الله تعالیٰ په نژد د هسې شیانو څه قدر او قیمت نشته نو ځکه نه ښائي چه د مکې کافران په دې شیانو باندې مغرور شي دا خو د الله تعالیٰ له لورې هغوی ته د ازموینې دپاره ورکړې شوې دي لکه چه د پخوانیو خلقو ازموینه هم پرې شوې وه.

إِذْ أَقْسَمُوا لَيَصْرِمُنَّهَا مُصْبِحِينَ ﴿١٧﴾ وَلَا يَسْتَثْنُونَ ﴿١٨﴾

کله چه قسمونه وخوړل دوی ټولو چه هرومرو (خامخا) پرې به کړو میوې د هغه باغ په اول وقت د صباح کښې او استثنا ئې ونه کړه إن شاء الله ئې ونه ویل (یا ئې ونه ایستله حصه د فقیرانو لکه چه پلار به ئې ایستله)

**تفسیر:** څو ورونه ؤ چه هغوی ته له پلاره په ترکه کښې یو میوه دار باغ پاتې شوی ؤ چه په هغه کښې کر هم کیده او ګرده (توله) کورنئ د هغه له حاصلاتو ځنې خوشاله ؤ. د پلار په زمانه کښې داسې عادت ؤ په هغه ورځ کښې چه د باغ میوې تولیدې یا کښت (فصل) ریبل کیده نو د ښار ګرد (تول) فقیران او اړ (مجبور) سړی به هم هلته تولیدل او دې ګردو (تولو) ته به د هغو میوو او کښتو (فصلونو) ځنې لږ او ډیر ورکول کیدل ـ او په هم دې خیر او خیرات سره په هغه باغ کښې لویه ګټه (فائده) او برکت ؤ د هغه له مړه کیدلو څخه وروسته د ده د ځامنو په فکر کښې دا خبره وروګرځیده دومره میوه او کښت (فصل) چه فقیران له مونږ ځنې وړی که دا ګرد (تول) مونږ پخپله سره تول کړو نو مونږ ته به له هغه ځنې ډیرې ګټې راورسیږې ولې داسې یو تدبیر به وکړو چه فقراء او نورو ته هیڅ ونه رسیږي او ګرد (تول) حاصلات ځمونږ کورونو ته راشي نو پخپلو منځونو کښې ئې مشوره وکړه او دا ئې سره غوټه کړه چه سهار د وقته باغ ته ځو او خپلې میوې تولوو چه فقیران او نور کسان پرې خبر نه شي دوی دا تدبیر داسې سره غوټه کړ إن شاء الله تعالیٰ ئې هم پکښې ونه ویل.

فَطَافَ عَلَيْهَا طَائِفٌ مِّن رَّبِّكَ وَهُمْ نَائِمُونَ ﴿١٩﴾ فَأَصْبَحَتْ كَالصَّرِيمِ ﴿٢٠﴾

پس نازله شوه پر دغه (باغ) یوه طواف کوونکې (بلاء سوځوونکې اور) په شپه کښې له (طرفه د) رب ستا حال دا چه دوی اوده ؤ پس تر ګهیځ (سحر وختې) پورې وګرځید (هغه باغ لکه له بیخه) ریبلې شوې کښت (فصل) یا تک تور لکه توره شپه

**تفسیر:** یعنی د شپې له مخې سخته سیلۍ راوالوته یا اور ولګید یا بل کوم افت پرې نازل شو او ګرد (تول) کښت (فصل) او باغ له کاره ووت او تک تور وګرځید.

فَتَنَادَوْا مُصْبِحِينَ ﴿٢١﴾ أَنِ اغْدُوا عَلَىٰ حَرْثِكُمْ إِنْ كُنْتُمْ صَارِمِينَ ﴿٢٢﴾
فَانْطَلَقُوا وَهُمْ يَتَخَافَتُونَ ﴿٢٣﴾ أَنْ لَا يَدْخُلَنَّهَا الْيَوْمَ عَلَيْكُمْ مِسْكِينٌ ﴿٢٤﴾
وَغَدَوْا عَلَىٰ حَرْدٍ قَادِرِينَ ﴿٢٥﴾

بیا ئې یو بل ته ورغږ کړل په وقت د صباح کښې (داسې) چه صباح له وقته ورشئ کښتو (فصلونو) خپلو ته که چیرې یئ تاسې پرې کوونکي (د میوې لو کوونکي د کښت ـ فصل) نو لاړل دوی او دوی پخپلو منځونو کښې پټې خبرې سره کولې (داسې) چه داخل نه شي هرومرو (خامخا) هغه (باغ ته) نن ورځ پر تاسې باندې هیڅ مسکین محتاج اړ (مجبور) سړی او سهار لاړل په منع د فقیرانو سره (باغ ته) حال دا چه قادر ؤ (په منع د فقیرانو په زعم خپل).

**تفسیر:** یعنی په دې یقین او باور سره وخوځیدل چه اوس به درومې او ګرد (تول) کښت (فصل) او د باغ حاصلات به په لاس راولي.

فَلَمَّا رَأَوْهَا قَالُوا إِنَّا لَضَالُّونَ ﴿٢٦﴾ بَلْ نَحْنُ مَحْرُومُونَ ﴿٢٧﴾

بیا هر کله چه وئې لید هغه (باغ تک تور سوځیدلی) وې ویل بیشکه مونږ خامخا لاره ورکه کړې ده (د خپل باغ) بلکه مونږ پخپله محرومه بې برخې شوې یو (له حاصلاتو په سبب د منعې د فقراؤ).

**تفسیر:** هغه ځمکه او باغ داسې داګ ډبر (خراب) شوی ؤ چه دوی هلته ورسیدل هغه ئې نشو پیژندلی او داسې ئې وګڼل چه لار ئې ورکه کړې ده او بل کوم لورې ته وتلي دي نو بیا چه ښه ورته ځیر شول او غور ئې وکړ وپوهیدل چه ځای خو همغه دی چه دوی ورته راغلي دي مګر دوی له هغه ځني بې برخې او بې نصیبه دي او د الله تعالیٰ له درباره محروم شوي دي.

قَالَ اَوۡسَطُهُمۡ اَلَمۡ اَقُلۡ لَّكُمۡ لَوۡلَا تُسَبِّحُوۡنَ ﴿۲۸﴾

وويل منځنی بهتر د دوی (په عقل كښې) آيا ما نه ؤ ويلی تاسی ته ولی په پاكی نه يادوی تاسی الله او توبه نه وباسئ له منع د فقيرانو يا ولی نه وايی إن شاء الله)

**تفسير:** د دوی په منځ كښې منځنی وروړ دير پوه او هښيار ؤ ده د مشوری په وقت هغوی ته تنبيه كړی وه او دا خبره ئی ورته ويلی وه چه وګوری ورونو! الله تعالیٰ مه هيروئ! ځكه چه دا تول د هغه احسان او انعام دی نو تاسی هم له فقيرانو او مسكينانو څخه هغه مه منع كوئ. كله چه چا د ده خبری ته غوږ كينښود نو دی هم چپ شو او په پته خوله له هغوی سره ملګری شو. څرنګه چه دا خرابی ئی وليده نو ژر ئی هغه خبره بيا ور په ياد كړه.

قَالُوۡا سُبۡحٰنَ رَبِّنَاۤ اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيۡنَ ﴿۲۹﴾ فَاَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ عَلٰى بَعۡضٍ يَّتَلَاوَمُوۡنَ ﴿۳۰﴾

وويل دوی پاكی ده رب ځمونږ لره بيشكه مونږ وو پخپله ظالمان (په منع د فقراؤ كښې) بيا مخ واړاوه ځينی د دوی پر ځينو نورو باندی چه يو بل به ئی ملامتوه.

**تفسير:** اوس ئی پخپل تقصير باندی اعتراف وكړ او ګردو (تولو) د الله په لوری مخ واړاوه. او لكه چه د عمومی مصيبت د وقت قاعده ده يو په بل باندی ئی الزام وروستو او در ګرده (تولو) به ئی يو بل د دی مصيبت سبب او عامل شميره.

قَالُوۡا يٰوَيۡلَنَاۤ اِنَّا كُنَّا طٰغِيۡنَ ﴿۳۱﴾ عَسٰى رَبُّنَاۤ اَنۡ يُّبۡدِلَنَا خَيۡرًا مِّنۡهَاۤ اِنَّاۤ اِلٰى رَبِّنَا رٰغِبُوۡنَ ﴿۳۲﴾

وی ويل دوی ای هلاک افسوس خرابی ده مونږ لره بيشكه مونږ وو له حده تيريدونكی ښايی چه رب ځمونږ بدل راكړی مونږ لره خير غوره له دی

(باغچې) څخه بېشکه مونږ رب خپل ته رغبت کوونکي يو.

**تفسير:** په پای (آخر) کښې تول سره يو ځای شول وی ويل چه په رښتيا سره مونږ ګرم (قصور وار) او ملامت يو ځکه چه مونږ د فقيرانو او غريبانو د برخې د خوړلو په قصد وتلي وو او د حرص او طمع لامله (له وجې) مو اصلي ګټه (فائده) هم له لاسه ووتله. دا څه خرابي چه مونږ ته رارسيدلې دی د هغه ذمه وار مونږ پخپله يو ـ مګر اوس هم مونږ له الله تعالیٰ څخه بې هيلې او نااميده نه يو او د هغه له مهربانۍ او لورينې (رحمت) څخنې دا خبره لرې نه ګڼو چه هغه له خپل فضل او رحمت څخنې مونږ ته له هغه پخوانۍ باغ څخه يو بل ښه باغ را په برخه کړی.

كَذَٰلِكَ الْعَذَابُ ۖ وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ أَكْبَرُ ۚ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿٣٣﴾

هم داسې (راځي آفت ـ عذاب په دنيا کښې مخالفانو ته له حکمه د رب) او خامخا عذاب آفت د آخرت ډير لوی دی که چيرې وی دوی چه پوهيدلې (په سختۍ د عذاب د آخرت نو مخالفت به ئې نه ؤ کړی).

**تفسير:** يعني دا خو د دنيا د عذاب يوه وړوکې نمونه وه چه هيچا ئې مخه نشوه نيولی نو د آخرت د خورا (ډير) لوی عذاب مخه به څوک ونيولی شي. که پوه وی نو ښائی چه سړی په دی خبره باندی ښه وپوهيږی.

إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنَّاتِ النَّعِيمِ ﴿٣٤﴾

بېشکه ويريدونکيو (له الله ځان ساتونکيو له معاصيو) ته په نزد د رب د دوی جنتونه ډک له نعمتونو دی.

**تفسير:** يعني د دنيا باغ وبهار پسې دومره زيات ولی لويدلی يی د جنت باغونه له دی څخنې په څو څو درجو لوړ (اوچت) او غوره دی چه هر راز (قسم) نعمتونه پکښې شته او د هوسائی (آرام) ګرد (تول) اسباب خاص متقيانو او ويريدونکيو لره راټول شوی دی.

أَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِينَ كَالْمُجْرِمِينَ ﴿٣٥﴾ مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ﴿٣٦﴾

آيا پس وبه ګرځوو مونږ مسلمانان (حکم منونکی) په شان د مجرمانو ګنهګارانو (په خلاصی او ثواب بلکه نه ئې ګرځوو) څه شوی دی تاسی ته

څرنګه حکم کوئ تاسي (خبره غوته کوئ په برابرى د منکرانو او مؤمنانو).

**تفسير:** يعني د مکي کفارو د غرور او تکبر له مخې پخپلو زړونو کښې داسي تاکلی (مقرر کړى) ؤ «که د قيامت په ورځ پر مسلمانانو باندى عنايت او ښېنه وشي نو پر موږ باندى به له هغه څخه ښه او زياته مرحمت کيږى» او لکه چه په دنيا کښې موږ په آرامي او هوسائى (راحت) کښې يو هلته به هم له موږ سره هم داسي معامله کيږى نو دلته داسي فرمائى چه دا به څرنګه کيدى شي؟ که داسي وشي نو د دى مطلب به داسي وى چه د يوه وفا لرونکى غلام چه تل د خپل بادار (سردار) د حکم منلو دپاره تيار ولاړ وى او د يوه بدکار او باغي سرى انجام به سره يو شان ته وى بلکه هغه بدکار له وفادار څخه ښه وى. دا هغه خبره ده چه سليم عقل او صحيح فطرت ئې هيڅ نشي منلى.

اَمۡ لَكُمۡ كِتٰبٌ فِيۡهِ تَدۡرُسُوۡنَ ﴿٣٧﴾ اِنَّ لَكُمۡ فِيۡهِ لَمَا تَخَيَّرُوۡنَ ﴿٣٨﴾
اَمۡ لَكُمۡ اَيۡمَانٌ عَلَيۡنَا بَالِغَةٌ اِلٰى يَوۡمِ الۡقِيٰمَةِ اِنَّ لَكُمۡ
لَمَا تَحۡكُمُوۡنَ ﴿٣٩﴾ سَلۡهُمۡ اَيُّهُمۡ بِذٰلِكَ زَعِيۡمٌ ﴿٤٠﴾

آيا له تاسي سره شته کوم کتاب چه په هغه (له آسمانه نازل شوى کتاب) کښې لولئ تاسي داسي چه بيشکه تاسي لره دى په هغه (کتاب) کښې خامخا هغه څه چه خوښوئ ئې تاسي. آيا شته تاسي لره قسمونه پر (وعدو د) موږ باندى چه رسيدلي وى تر ورځي د قيامت پورى بيشکه چه شته تاسي ته هغه چه پرى حکم کوئ تاسي پوښتنه وکړه له دوى نه چه کوم يو له دوى نه په دغه (حکم چه کوى ئې) ضامن ذمه اخيستونکى دى (دوى ته).

**تفسير:** يعني دا خبره چه مسلم او مجرم سره يو برابر وګڼل شي ښکاره ده چه له عقل او فطرت څخه مخالفه ده. بيا د دى په تاکيد او تائيد کښې کوم عقلي دليل هم له تاسي سره شته؟ آيا په کوم معتبر کتاب کښې داسي کوم مضمون تاسي لوستى دى چه هر هغه شي چه تاسي ئې د خپلو ځانونو دپاره غوره کوئ، همغه به تاسي ته درکاوه شي؟. او ستاسي ګردى (تولى) غوښتنې او په زړه پورى خبرى پوره کيدونکى دى؟ يا په الله تعالىٰ تر قيامت پورى داسي قسم خوړلى وى چه تاسي هر هغه شي چه پخپلو زړونو کښې وټاکى (مقرر کړئ) همغه به تاسي ته درکاوه شي؟ او همغسى چه اوس تاسي هم په عيش او استراحت کښې يئ تر قيامت پورى به په هم دى حال کښې وساتل شئ؟ هغه سرى چه د دوى له منځه داسي دعوى کوى نو د دى خبرى د

ثابتولو ذمه واری ښائی پخپله غاړه ونیسی رائیوله او مخامخ ئی ودروه چه وئی وینو او وئی پوښتو چه له کومه وائی؟ او څه غوړیږی؟.

أَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ فَلْيَأْتُوا بِشُرَكَائِهِمْ إِن كَانُوا صَادِقِينَ ۝٤١

آیا شته دوی لره شریکان (په دغه دعوی کښی په زعم د دوی) نو رادی ولی هغه شریکان خپل که چیری وی دوی صادقان رښتینی (په دی دعوی خپله کښی).

**تفسیر:** یعنی که له هغوی سره هیڅ یو عقلی او نقلی دلیل نشته او یواځی د دروغو بتانو په نامه داسی ویناوی کوی چه هغوی به له مونږ سره داسی او هسی کوی او داسی مرتبی رابښی ځکه چه هغوی (استغفر الله) په خدائی کښی برخه لرونکی او مله دی نو په داسی دعوو کښی د هغوی رښتینوالی هلته ثابتیږی چه دوی دی شریکانو ته د الله تعالیٰ په مخ کښی هم دعوت او بلنه ورکړی او د هغوی په وسیله خپلی په زړه پوری خبری او چاری پر دوی باندی اجراء کړی. خو دا خبره دی هر چاته په یاد وی چه هغه ناحق معبودان د خپلو عابدانو په نسبت ډیر عاجزان او ناتوانان دی. هغوی ستاسی هیڅ مرسته (مدد) نشی کولی ځکه چه هغوی خپلو ځانونو ته هم څه مدد نشی رسولی.

يَوْمَ يُكْشَفُ عَن سَاقٍ وَيُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُودِ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ ۝٤٢

(او یاده کړه) هغه ورځ چه بربندوالی به وکړی شی له پنډی نه (او سخت وقت راشی د قیامت) او راوبه بللی شی دغه (کافران) طرف د سجدی کولو ته (لپاره د امتحان) پس توان به ئی ونه شی (سجدی کولو ته).

**تفسیر:** د دی قصه د شیخینو په حدیث کښی مرفوعاً داسی راغلی ده چه «حق تعالیٰ به د قیامت په میدان کښی خپل ساق ښکاروی.» «ساق» پنډی ته وائی دا به د الهیه ؤ صفاتو له حقائقو څخه کوم خاص صفت او یا حقیقت وی چه هغه ته ئی د کوم خاص مناسبت لامله (له وجی) (ساق) وفرمایه. لکه چه په قرآن کریم کښی د (ید ـ لاس) او (وجه ـ مخ) الفاظ هم راغلی دی چه دغه ټول مفهومات د متشابهاتو له ډلی څخه بلل کیږی چه پر دوی هم بلاکیف همغسی چه ښائی سری ایمان راوړی لکه چه د الله تعالیٰ په ذات ـ وجود ـ حیات ـ سمع ـ بصر او نورو صفاتو باندی مونږ بلاکیف ایمان او عقیده لرو. په همغه حدیث کښی راغلی دی چه «د الله تعالیٰ د تجلی له لیدلو څخه ګرد (ټول) مؤمنین او مؤمنات به سجده لویږی مګر هغه سری چه

د ریاء دپاره به ئی سجدی کولی د هغه ملا به سمه سیخه وچه پاتی کیږی او سجدی کولو دپاره به نه کږیږی. هر کله چه ریاکاران او منافقان په سجده کولو باندی قدرت نه مومی نو د کافرانو عدم قدرت او ناتوانی په سجده کولو کښی په ښه ډول (طریقه) سره ثابتیږی.» دا ګردی (تولی) چاری په قیامت کښی څکه کیږی چه مؤمن او کافر ـ مخلص او منافق په ښکاره ډول (طریقه) سره څرګند (ښکاره) شی. او د هر یوه باطنی حالت په حسی ډول (طریقه) سره وکتل شی.
**تنبیه:** پر متشابهاتو باندی پخوا له دی نه خبری کړی شوی دی. او حضرت شاه عبدالعزیز رحمه الله د دی «کشف ساق» د آیت په تفسیر کښی ډیره ښه او عالی او عجیبه تبصره پر متشابهاتو باندی کړی ده ـ فلیراجع.

خَاشِعَةً أَبْصَارُهُمْ

حال دا چه ذلیلی ښکته به وی (له شرمه) سترګی د دوی

**تفسیر:** یعنی د ندامت او شرمندګی لامله (له وجی) به یی سترګی تیټی وی او نشی ئی پورته کولی.

تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ۖ وَقَدْ كَانُوا يُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُودِ وَهُمْ سَالِمُونَ ﴿٤٣﴾

راګیر کړی به وی دوی ذلت خواری او بیشکه ؤ دوی (په دنیا کښی) چه بلل کیدل دوی طرف د سجدی کولو ته او دوی به ؤ روغ رمټ (نو سجده به یی نه کوله).

**تفسیر:** یعنی په دنیا کښی هغوی ته د سجدی حکم ورکړی شوی ؤ کله چه دوی روغ رمټ ؤ او پخپل واک (اختیار) ئی سجدی کولی شوی هلته دوی په اخلاص سره هیڅ سجده ونه کړه د هغه اثر داسی شو چه استعداد ئی باطل شو. اوس که غواړی چه سجده وکړی نه یی شی کولی.

فَذَرْنِي وَمَن يُكَذِّبُ بِهَٰذَا الْحَدِيثِ ۖ سَنَسْتَدْرِجُهُم مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٤٤﴾

نو پریږده ما او هغه څوک چه دروغ وائی په دی خبری (قرآن) باندی ژر ده

چه ویه نیسو مونږ دوی ورو ورو (او نژدی به یی کړو عذاب ته) له هغه ځایه چه دوی نه دی پری پوه.

**تفسیر:** یعنی د هغوی په عذاب کښی لویدل یقینی دی. خو د دوی د دی څو ورځنی د توقف او د عذاب د ډیل په نسبت تاسی مه خپه کیږئ ـ او د هغوی معامله ماته پریږدئ زه به پخپله د هغوی چاره وکړم. او داسی په ورو ورو او په تدریج سره به ئی دوزخ ته بوځم او زینه په زینه به راښکته کړو دوی او ورو ورو به نژدی کړو دوی عذاب ته چه هغوی په ځان هم خبر نشی. دوی به پخپلو چرتو (خیالونو) کښی دوب تللی وی خو د دوی بنستونه (بنیادونه) له بیخه خیژی.

وَأُمْلِي لَهُمْ إِنَّ كَيْدِي مَتِينٌ ﴿٤٥﴾

او تال ورکوم دوی ته (په دنیا کښی) بیشکه ځما کید ـ مکر ـ وار کلک دی (او تدبیر می پوخ دی).

**تفسیر:** یعنی ځما لطیف او خفیه تدبیر داسی پوخ دی چه په هغه باندی دا خلق پوهیدی نشی نو بیا به دوی هغه څرنګه ماتولی شی.

أَمْ تَسْأَلُهُمْ أَجْرًا فَهُمْ مِنْ مَغْرَمٍ مُثْقَلُونَ ﴿٤٦﴾ أَمْ عِنْدَهُمُ الْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُونَ ﴿٤٧﴾

آیا ته غواړی له دوی ځنی (په تبلیغ د رسالت) څه اجر مزدوری نو دوی د هغه له زیان تاوان څخه دروند بار کړی شوی دی (نو ځکه مخ درڅخه اړوی؟ بلکه نه ئی غواړی!) آیا شته په نزد د دوی پته خبره علم الغیب پس دوی ئی لیکی (له هغه څخه دغه حکم د برابری د مؤمن او د کافر).

**تفسیر:** یعنی د افسوس او د تعجب ځای دی چه دا خلق داسی د تباهی په لوری ورځی څو ستاسی خبری نه منی. آخر د دوی د نه منلو سبب څه شی دی؟ آیا تاسی له دوی ځنی کومه معاوضه تنخواه ـ کمیشن ـ او نور څه غواړئ چه د هغه له پاره هغوی ځان بیرته راکاږی؟ یا پخپله له هغوی سره د پټو خبرو څه حال او احوال شته؟ یا د الله تعالیٰ وحی دوی ته راځی؟ او هغوی هغه په ډیر حفاظت سره لکه قرآن غوندی لیکی نو ځکه ستاسی متابعت ته ځان اړ (محتاج) او مجبور نه بولی او آخر به څه نه څه په منځ کښی وی. کله چه پر هغوی باندی هیڅ

یو بار نه اچول کیږی او له هغه شي څخه دوی مستغني او بی پروا هم نه دی نو د دوی د دی نه منلو سبب به پرته (علاوه) له ضده عناده ـ انکاره ـ رخی (کینی) او عداوت بل شی کیدی نشی

فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا تَكُن كَصَاحِبِ الْحُوتِ إِذْ نَادَىٰ وَهُوَ مَكْظُومٌ ﴿٤٨﴾

نو صبر کوه حکم د رب خپل ته (په باب د منکرانو کښی) نو مه کیږه ته (په تنگ دلی او تلوار کښی) لکه خاوند د ماهی کب (په تنگ دلی او تلوار کښی) کله چه غږ وکړ او دی و ډک له غم غصی نه.

**تفسیر:** یعنی د کب (ماهی) په گیډه کښی تلونکی پیغمبر حضرت یونس علیه وعلیٰ نبینا الصلوٰة والسلام په شان د مکذبینو په معامله کښی تنگدلی او ویره مه ښکاروی د دوی قصه پخوا له دی نه په څو څو ځایونو کښی لږه لږه تیره شوی ده
﴿ إِذْ نَادَىٰ وَهُوَ مَكْظُومٌ ﴾ ـ کله چه غږ وکړ او دی و ډک له غصی نه) یعنی د قوم له لوری له غصی نه ډک شوی و له ډیره قهره ئی د عذاب په غوښتلو کښی ډیره چالاکی بلکه پیشگوئی وکړه.
**تنبیه:** د «مکظوم» معنیٰ مفسرینو داسی کړی ده چه دی د ډیری اندیښنی او خپگان له لاسه کړی ده او د هغه دا غم د څو نورو غمونو مجموعه وه. یو د قوم د ایمان نه راوړلو بل د عذاب د بیرته لویدلو. بل د بی له صریح اذن او اجازی څخنی له ښاره وتلو ـ او برسیره (سیوا) په هغوی باندی د هغه د ده د بندی پاتی کیدلو د ماهی په گیډه کښی. نو ده په دی وقت کښی داسی دعاء وکړه ﴿ لَّا إِلَٰهَ إِلَّا أَنتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ الظَّالِمِينَ ﴾ نو دلته د الله تعالیٰ فضل پری وشو او د ماهی له گیډی څخه ئی نجات وموند.

لَّوْلَا أَن تَدَارَكَهُ نِعْمَةٌ مِّن رَّبِّهِ لَنُبِذَ بِالْعَرَاءِ وَهُوَ مَذْمُومٌ ﴿٤٩﴾

که چیری نه وی دا چه موندلی وی ده نعمت احسان له لوری د رب د ده نو خامخا به پری وتی و دی (له گیډی د مهی نه) په سپیره ډگر (میدان) کښی او دی به ملامت کړی شوی و (ولیکن مرحوم شو له طرفه د رب نو ځکه ملامت نه شو)

**تفسیر:** یعنی د توبی له قبول څخه وروسته که د الله تعالیٰ زیات فضل او احسان د هغه لاس

نیونه نه وی کړی نو په هغه وچ کلک لوی میدان کښې چه د ماهی له ګیډی څخه د باندی لویدلی همغسی ملزم شوی به پروت و. او هغه کمالات او کرامات به بیا نه ورته ښڼل کیدل خو یوائځی د الله تعالیٰ د فضل او مهربانی لامله (له وجی) د هغه د ابتلاء په وقت کښې هم هغه شیان له هغه سره پاتی ؤ.

فَاجْتَبٰهُ رَبُّهٗ فَجَعَلَهٗ مِنَ الصّٰلِحِیْنَ ﴿۵۰﴾

پس غوره کړ دغه (یونس) لره رب د ده (په نبوت سره) نو ګرځولی ئی و دی له (کاملانو صالحانو انبیاؤ څخنی)

**تفسیر:** یعنی بیا ئی د هغه نوره رتبه هم لا اوچته کړه او په اعلیٰ درجه نیکو خلقو کښې ئی ورداخل کړ. په حدیث کښې راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه «له تاسی څخنی دی هیڅ یو داسی ونه وائی چه زه د یونس علیه السلام بن متی څخه ښه او بهتر یم»

وَاِنْ یَّکَادُ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا لَیُزْلِقُوْنَکَ بِاَبْصَارِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا الذِّکْرَ وَیَقُوْلُوْنَ اِنَّهٗ لَمَجْنُوْنٌ ﴿۵۱﴾

او بیشکه نژدی و هغه کسان چه کافران شوی دی خامخا وبه ښویوی تا (وبه دی غورځوی په ځمکه) په سترګو خپلو سره هر کله چه واوریده دوی قرآن (ستا له ژبی) او وائی دوی (د کینی له مخی) بیشکه دغه (محمد) لیونی دی

**تفسیر:** یعنی د قرآن کریم له اوریدلو څخه له غیظ او غضبه خوتکیږی او په هسی رډو سترګو تاسی ته ګوری چه تاسی پخپلو سترګو سره له ځایه وښویوی یا خامخا هلاک دی کړی تا لره یا دی وغورځوی له مرتبی خپلی نه او په ژبه سره هم چتی (بیکاره) اپلتی خبری کوی چه استغفرالله دا سړی لیونی شوی دی او د ده هیڅ یوه خبره (نعوذ بالله) د التفات وړ (قابل) نه ده مقصد دا دی چه داسی غواړی چه تاسی وویروی او د صبر او د استقامت له ځایه مو وخوځوی مګر تاسی همغسی سم پخپل مسلک باندی کلک اوسئ! او مه زړه تنګه کیږئ او په هره معامله کښې خپل خپګان مه ښکاره کوئ! او مه چالاکی کوئ! ویره او مداهنت مه اختیاروئ!.

**تنبیه:** ځینی له ﴿ لَیُزْلِقُوْنَکَ بِاَبْصَارِهِمْ ﴾ څخه دا مطلب اخلی چه د کفارو څخنی هغه کسان چه په سترګو کولو کښې دومره مشهور ؤ په دی باندی ئی وګمارل چه پر رسول اکرم صلی الله علیه وسلم باندی خپلی بدی سترګی واچوی! لکه چه هغه نظر اچوونکی سړی راغلل او په خورا (ډیر)

قوت سره ئی پر رسول الله مبارک باندی چه په لمانځه مشغول و نظر واچوه او خپل زیات همت ـ زیار (کوشش) ئی په هغه کښی ولګوه مګر د حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم فقط په دومره ویلو سره هغوی ناکام پاتی شول چه «**لاحول ولاقوة الابالله**» پاتی شوه دا خبره چه په نظر لګیدلو او یا نظر اچولو باندی هم څه وینا وکړه شی خو دا ئی ځای نه دی. او څنګه چه نن مسمریزم یوه باقاعده فن او چاره شوی ده نو په هغه کښی زیات بحث او څیړنه (تحقیق) کول ښه کار نه دی.

وَمَا هُوَ اِلَّا ذِكۡرٌ لِّلۡعٰلَمِيۡنَ ۝٥٢

او حال دا دی چه نه دی دا (قرآن) مګر خو ذکر پند دی ټولو عالمیانو لره.

**تفسیر:** یعنی په قرآن کښی د لیونتوب او جنون خبری چیری دی. هغه خو د ګردی (ټولی) نړی (جهان) او نړی والانو (اهل جهان) دپاره د خورا (ډیر) لوی ذکر پند او د نصیحت لویه ذخیره ده. په دی کښی د بنی نوع انسان اصلاح او فلاح جاری پرتی دی او په رښتیا سره همغه سری لیونی باله شی چه د دی پاک کلام لیونی نه وی او د زړه په اخلاص سره ئی نه منی.

**تمت سورة القلم بفضل الله وکرمه ومنه**

سورة الحآقة مکیة وهی اثنتان وخمسون آیة وفیها رکوعان رقمها (۶۹) تسلسلهاحسب النزول (۷۸) نزلت بعد سورة الملک.

د «الحآقة» سورت مکی دی (۵۲) آیته (۲) رکوع لری په تلاوت کښی (۶۹) او په نزول کښی (۷۸) سورت دی

وروسته د «الملک» له سورت څخه نازل شوی دی

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ۝

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

اَلۡحَآقَّةُ ۝١ مَا الۡحَآقَّةُ ۝٢

هغه (قیامت) حق واقع کیدونکی ـ څه شی دی هغه حق واقع کیدونکی.

**تفسیر:** یعنی د قیامت هغه ګړئ ـ چه د هغی راتلل له ازله د الله تعالیٰ په علم کښی ثابت او تاکلی (مقرر) شوی دی. کله چه حق له باطل څخه بالکل ښکاره او بی له کوم التباس او اشتباه څخه هر شی بیل او جلا (جدا) کیږی او ګرد (تول) حقائق په پوره کمال او سبوغ سره ښرګندیږی (ښکاریږی) او د هغه د ذات په نسبت ګرد (تول) جګړه کوونکی هلته مغلوب او مقهور کیږی نو هلته به وپوهیدی شی چه هغه ګړی څه شی ده؟ او څرنګه احوال او کیفیات په هغی کښی شته؟.

وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الْحَآقَّةُ ﴿۳﴾

او څه شی پوه کړی ئی ته چه څه شی دی هغه (قیامت) حق واقع کیدونکی.

**تفسیر:** یعنی که هر څومره یو خورا (ډیر) لوی سړی هر څومره فکر ووهی او خپل چرت (خیال) او جاج (اندازه) وچلوی د هغی ورځی د ویروونکی ننداری او زړه خوځوونکی پیښی منظری ته ئی فهم او ادراک نه وررسیږی. هو! د تقریب الی‌الفهم دپاره د تمثیل او تنظیر په ډول (طریقه) څو واقعی وروسته بیانیږی چه په دنیا کښی د هغه کبریٰ قیامت د یوی وړوکی او بیخی حقیری او ناتمامی نمونی کار ورکوی. ګویا کی دا د وړوکی (حاقی) یادونه د هغی لوئی (حاقی) دپاره د یوه تمهید کار ورکولی شی.

كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ وَعَادٌۢ بِالْقَارِعَةِ ﴿۴﴾

دروغ ویلی ؤ ثمودیانو او عادیانو په (هغه قیامت) ټکوونکی (د زړونو او د غوږونو په سختیو سره)

**تفسیر:** یعنی د ثمود او د عاد قومونو دا د قیامت راتلونکی ګړئ دروغ وبلله چه هغه به ګرد (تول) ځمکه آسمان ـ لمر ـ سپوږمی ـ ستوری ـ غرونه او سړی ټکوی او ډیر سخت شیان تری وړی وړی او ذری کیږی بیا وګوره چه د دی دواړو انجام او پای (آخر) څرنګه شو؟.

فَاَمَّا ثَمُوْدُ فَاُهْلِكُوْا بِالطَّاغِيَةِ ﴿۵﴾

پس هر څه چه ثمودیان ؤ نو هلاک کړل شول (هغوی) په سخت آواز (د جبریل یا په سبب د سرکښی خپلی)

**تفسير:** يعني يوه سخته زلزله له يوه سخت آواز د جبريل عليه السلام سره يو ځاى راغله او ګرد (تول) ئى سره لاندى باندى کړل يا هلاک شول ثموديان په سبب د سرکشيو خپلو سره چه د صالح عليه السلام ناقه ئى ګوډه او هلاکه کړه.

وَأَمَّا عَادٌ فَأُهْلِكُوا بِرِيحٍ صَرْصَرٍ عَاتِيَةٍ ﴿٦﴾

او هر څه چه عاديان ؤ نو هلاک کړى شوى ؤ (دوى) په باد سخت آواز کوونکى (يا په ډير سخت له حده تيريدونکى يخ باد)

**تفسير:** يعني هغه باد (وربښ) دومره سخت او شديد ؤ چه په هغه باندى د هيڅ يوه موجود زور نه رسيده تر دى چه هغو پرښتو له واکه (اختياره) هم د هغه سخت باد اداره کول نه و پوره او د هغوى له لاسو ځنى هم الوت چه د هغه باد په اراده باندى مسلطى او مقررى وى.

سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ سَبْعَ لَيَالٍ وَثَمَانِيَةَ أَيَّامٍ حُسُومًا فَتَرَى الْقَوْمَ فِيهَا صَرْعَىٰ كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ ﴿٧﴾ فَهَلْ تَرَىٰ لَهُمْ مِنْ بَاقِيَةٍ ﴿٨﴾

مقرر کړى ؤ (الله) دغه (باد) پر دوى باندى اووه شپى او اته ورځى متواتر پرله پسى برابر نو ليده به تا هغه قوم (د عاد) په هغه کښى لويدلى (مړه پراته په ځمکه باندى) ګواکى دوى (له جهت د لويوالى د جثو بيخونه) ډډونه د خرماؤ دى (هلاک پريوتلى په ځمکى باندى) نو آيا وينى ته کوم يو (نفس) له دوى ځنى باقى پاتى شوى (بلکه هيڅ ئى نه وينى).

**تفسير:** يعني هغه قومونه چه لنګ وهلى د مباحثى او مناقشى ډګر (ميدان) ته راوتى ؤ او په لوړو (اوچتو) غړونو سره به ئى ويل. څوک به وى چه له مونږ ځنى زيات زور ولرى؟ هغه هم ځمونږ له هغه زورور باد او وربښ سره مقابله ونشوه کړى. او ډير پهلوانان ئى د هغه زورور وربښ (باد) د څپيرو په مخ کښى داسى کم قوت او بى سيکه او اوړده غځيدل لکه د خرما لوى ډډونه چه سرونه ئى وهلى شوى او له بيخه او بنسټ (بنياد) څخه راوويستل شى. نو آيا وينى ته کوم يو له دوى ځنى پاتى شوى؟ بلکه وبه نه وينى يو تن هم له هغوى څخه پاتى شوى يعني د هغو قومونو ذريه او برګ (نسل) پاتى نه شو ـ او د دنيا له مخ څخه بيخى فنا شول.

وَجَآءَ فِرۡعَوۡنُ وَمَنۡ قَبۡلَهٗ وَالۡمُؤۡتَفِكٰتُ بِالۡخَاطِئَةِ ۚ﴿۹﴾
فَعَصَوۡا رَسُوۡلَ رَبِّهِمۡ فَاَخَذَهُمۡ اَخۡذَةً رَّابِيَةً ﴿۱۰﴾

او راغی فرعون او هغه چه پخوا له هغه ځنی و او (اهل د) کلیو چپه (الته) کړی شویو په گناهونو سره (چه شرک و) نو حکم ونه مانه دوی د رسول د رب د دوی نو (الله) ونیول هغوی په نیولو سختو سره.

**تفسیر:** یعنی وروسته له عاد او ثمود څخه فرعون ډیری سختی خبری او تکبر او ځانمنمی (لویئ) کولی او پخوا له هغه څخه نور څو قومونه هم سره له لویو گناهونو تیر شوی دی لکه د نوح قوم او د شعیب قوم او د لوط قوم چه د هغوی کلی سره له کلیوالو د هغو په بل مخ واړول شول دوی گردو (تولو) د خپلو خپلو پیغمبرانو خبری نه منلی ـ او د الله تعالیٰ مقابلی ته راوتلی ؤ او د الله تعالیٰ له احکامو څخه ئی غاړی غړولی وی په پای (آخر) کښی د الله تعالیٰ له لوری دوی گرد (تول) په لویو آفتونو سره ککړ شول او په هسی سختو بلاؤ کښی اخته شول چه د هغوی ژغورنه (نجات) له هغه ځنی مشکله وه. هو! د الله تعالیٰ په مخ کښی د هیچا له لاسه هیڅ شی نه دی پوره.

اِنَّا لَمَّا طَغَا الۡمَآءُ حَمَلۡنٰكُمۡ فِى الۡجَارِيَةِ ﴿۱۱﴾ لِنَجۡعَلَهَا لَكُمۡ تَذۡكِرَةً
وَّتَعِيَهَآ اُذُنٌ وَّاعِيَةٌ ﴿۱۲﴾

بیشکه مونږ هر کله چه طغیان وکړ اوبو راپورته شوی په هر شی باندی پورته کړی وو مونږ تاسی په تلونکی بیړی (د نوح) باندی لپاره د دی چه وگرځوو مونږ دا (واقعه) تاسی ته تذکره پند (په نجات د مؤمنانو او غرق د کافرانو) او په یاد دی ولری (ودی ساتی) دا (نصیحت) غوږونه یادوونکی ساتونکی.

**تفسیر:** یعنی د نوح علیه السلام په زمانه کښی کله چه طوفان راغی نو ښکاره وه چه په هیڅ دول (طریقه) د هیڅ یو انسان پاتی کیدل او ژغورنه (نجات) له هغه ځنی ممکنه نه وه او ځمونږ قدرت او عام انعام ـ اکرام ـ او احسان ؤ چه گرد (تول) منکران مو دوب کړل او یواځی نوح علیه السلام او د هغه ملگریو ته مو نجات ورکړ نو ښه په داسی یوه لوی طوفان کښی د هغی وړوکی بیړی سلامت پاتی کیدل له توقع او هیلی (امید) ځنی لوړ (اوچت) کار نه دی؟ او آیا

هغه ځمونږ د قدرت او حکمت يوه علامه او نښه نه ده؟ تر څو هغه ژغورلی (بچ) شوی انسانان د هغه لوی طوفان او د خپلی ژغورنی (نجات) قصی نورو ته وکړی او په دی ډول (طريقه) سره دا پيښه تر آخر پوری د هر سړی په ياد پاتی وی نو دغه خبری د هغو غوږونو له ياده چه کومه معقوله خبره اوری او پری پوهيږی او په ياد ئی ساتی هيڅ کله به نه هيريږی چه په يوه زمانه کښی د الله تعالیٰ له لوری ځمونږ پر پلرونو باندی هسی يو لوی احسان شوی دی. او په دی باندی وپوهيږی، لکه چه د دنيا په جګړو او پيښو کښی تل فرمان برداران له نافرمانانو ځنی بيليږی هم داسی حال به د قيامت په ويرونکی (حاقه) کښی هم کيدونکی وی. وروسته له دی نه بيا الله تعالیٰ اجل شانه واعظم برهانه په هم دی لوری خپل کلام منتقل کوی.

فَإِذَا نُفِخَ فِي الصُّورِ نَفْخَةٌ وَاحِدَةٌ ﴿١٣﴾ وَحُمِلَتِ الْأَرْضُ وَالْجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةً وَاحِدَةً ﴿١٤﴾ فَيَوْمَئِذٍ وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ﴿١٥﴾

بيا کله چه پوکی وشی په صور شپيلی کښی پوکی يو او پورته کړه شی ځمکه او غرونه (له خپلو ځايونو) نو مات به کړل شی دا دواړه (توټی توټی) په ماتولو يوه سره نو په دغه ورځی کښی به واقع شی (هغه) واقع کيدونکی (قيامت)

**تفسير:** يعنی د صور (شپيلی) له پو کيدلو سره به سم ځمکه او غرونه له خپل اصلی صورت ځنی راووځی او ګرد (تول) سره وړوکی وړوکی ذری ذری او بخرکی بخرکی کيږی نو هم دا د قيامت د قائميدلو وقت دی.

وَانْشَقَّتِ السَّمَاءُ فَهِيَ يَوْمَئِذٍ وَاهِيَةٌ ﴿١٦﴾ وَالْمَلَكُ عَلَىٰ أَرْجَائِهَا

او وبه چوی (څيری به شی) آسمان بيا هغه (آسمان) په دغه ورځ کښی سست ضيف وی او ملائکی پرښتی به وی په څندو (غاړو) د هغه (آسمان)

**تفسير:** يعنی نن ورځ چه آسمان دومره کلک او مضبوط دی چه سره د لکونو کلونو د تيريدلو بيا هم هيڅ يو سوری او کندو پکښی نه ليده کيږی په هغی ورځی کښی به شليږی او توټی توټی کيږی به کله چه د هغه د منځنی برخی نړيدل شروع کيږی نو پرښتی به د هغه څندی (غاړی) ته ځی.

وَيَحۡمِلُ عَرۡشَ رَبِّكَ فَوۡقَهُمۡ يَوۡمَئِذٖ ثَمَٰنِيَةٞ ﴿١٧﴾

او پورته به کړی عرش د رب ستا د پاسه د دوی په هغه ورځ کښې اته (پرښتې).

**تفسیر:** اوس څلورو پرښتو عظیم عرش راپورته کړی دی چه د هغه د لویوالی او ارت والی علم یوائې له پاک پروردګاره سره دی په هغه ورځ کښې له هغوی سره څلور پرښتې نوری هم ملګری کیږی. په «تفسیر عزیزی» کښې د دی عددونو په حکمت او د دی پرښتو پر حقائقو باندی ډیر دقیق او بسیط بحثونه شوی دی ښائی چه شائقین به ئی هلته ولولی.

يَوۡمَئِذٖ تُعۡرَضُونَ لَا تَخۡفَىٰ مِنكُمۡ خَافِيَةٞ ﴿١٨﴾

په دغه ورځ کښې به تاسی حاضر وړاندی کړل شئ (الله ته سره د حساب پته به نه پاتی کیږی له (اعمالو د) تاسی هیڅ یوه پټه خبره

**تفسیر:** یعنی په هغه ورځ کښې به تاسی د الله تعالیٰ دربار ته راحاضر کړی شئ او د هیچا هیڅ یوه نیکی او بدی به نه پټیږی او ګرد (تول) عام منظر ته به راښکاره کړی شی.

فَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ فَيَقُولُ هَآؤُمُ ٱقۡرَءُواْ كِتَٰبِيَهۡ ﴿١٩﴾

نو هر هغه څوک چه ورکړ شی کتاب عمل نامه د ده په ښی لاس د ده نو به وائی (له خوشالی داسی چه) راشئ (واخلئ) او ولولئ تاسی دا ځما کتاب عملنامه.

**تفسیر:** یعنی په هغی ورځی کښی هره اعمالنامه چه په ښی لاس کښی ورکړه شی هغه د نجات او د مقبولیت علامه ده نو هغه له ډیری خوښی څنی هر سړی ته ورښکاروی او وائی به چه راځئ ځما اعمالنامه ولولئ!.

إِنِّي ظَنَنتُ أَنِّي مُلَٰقٍ حِسَابِيَهۡ ﴿٢٠﴾

بیشکه ما یقین کاوه (په دنیا کښې) چه بیشکه زه پیوست کیدونکی یم له حساب خپل سره.

**تفسیر:** یعنی په دنیا کښې ئې هسې خیال کاوه چه یوه ورځ به ضرور ځما حساب او کتاب اخیست کیږی نو ځکه زه ویریدم او د خپل ځان سره مې محاسبه کوله نن شکر دی چه د هغه په زړه پوری نتیجه وینم چه د خدای په فضل سره ځما حساب بالکل صاف او پاک دی.

فَهُوَ فِيْ عِيْشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴿۲۱﴾ فِيْ جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿۲۲﴾ قُطُوْفُهَا دَانِيَةٌ ﴿۲۳﴾

نو هغه (شخص) دی په عیش ښه کښې (چه دی به پری راضی وی) په جنت عالی لوی اوچت کښې چه میوی به ئې نژدی وی.

**تفسیر:** چه په ولاړه ـ ناسته ـ ملاسته او هر وقت او هر حال کښې په ډیره آسانی سره په لاس راځی او په ښه دول (طریقه) سره شوکولی کیږی!

كُلُوْا وَاشْرَبُوْا هَنِيْٓـًٔا بِمَآ اَسْلَفْتُمْ فِى الْاَيَّامِ الْخَالِيَةِ ﴿۲۴﴾

(ورته وبه ویل شی) خورئ او څښئ په اشتهاء هضم سره په بدل د هغو عملونو خپلو چه مخکښې لیږلی ؤ (تاسی ای مؤمنانو) په ورځو تیرو شویو د دنیا کښې.

**تفسیر:** یعنی په دنیا کښې تاسی خاص د الله تعالیٰ دپاره د خپلو نفسانی خواهشونو مخی مو نیولی وی او د لوږی او تندی ربړونه (تکلیفونه) مو پر ځان اخیستی ؤ نن هیڅ یو رنځ او تکلیف په تاسی باندی نشته. په ښو مزو او اشتهاء سره هر شی مو چه زړه غواړی خورئ او څښئ ئی! ځکه چه نه مو طبیعت خفه او نه منغض او نه منقبض کیږی او نه د بدهضمی او د بولو او غائطو او د بلی ناروغی اندیښنه له تاسو سره شته او نه مو د دی نعمتونو زوال په تصور کښې راځی.

وَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِشِمَالِهٖ ۙ فَيَقُوْلُ يٰلَيْتَنِيْ لَمْ اُوْتَ
كِتٰبِيَهْ ﴿۲۵﴾ وَلَمْ اَدْرِ مَا حِسَابِيَهْ ﴿۲۶﴾ يٰلَيْتَهَا كَانَتِ الْقَاضِيَةَ ﴿۲۷﴾
مَآ اَغْنٰى عَنِّيْ مَالِيَهْ ﴿۲۸﴾ هَلَكَ عَنِّيْ سُلْطٰنِيَهْ ﴿۲۹﴾

او هر هغه څوک چه ورکړ شی کتاب عملنامه د ده په کیڼ لاس د ده نو وبه وائی (له غمه داسی چه) ای کاشکی نه وی راکړی شوی ماته دا کتاب اعمالنامه ځما او نه وم پوه شوی زه چه څه دی حساب ځما. ای کاشکی وی (ړومبنی مرګ ځما په دنیا کښی) خلاصوونکی (ځما له دوهم حیات) هیڅ دفع ونه کړه له ما ځنی مال ځما برباد شو له ما ځنی سلطنت حکومت ځما.

---

**تفسیر:** یعنی د شا له لوری په کیڼ لاس کښی د هر چا اعمالنامه چه ورکوله کیږی هغه پوهیږی چه په ما باندی کمبختی راغلی ده. نو په دی وقت کښی په ډیر حسرت سره داسی تمنا کوی چه کاشکی ځما دا اعمالنامه نه وی راکړی شوی او زه نه خبریدی چه ځما حساب او کتاب څرنګه دی! کاشکی په مرینی می دا قصه پای (آخر) ته رسیدلی وی! او زه د تل دپاره مړ پروت وی! او له مرینی څخه وروسته می بیا دا ژوندون نه په برخه کیدی او که ژوندی کیدم خو بیا زر د مرګی یوه لقمه او نمری کیدلی!! افسوس چه هغه مال ـ جاه ـ حکومت او دولت می هیڅ په کار رانغی ـ او نن می د هغو ګردو (تولو) شیانو هیڅ یو شی په سترګو نه راځی. نه څه دلیل او حجت په لاس لرم او نه څه عذر او معذرت کولی شم.

(نو الله تعالیٰ اجل شانه واعظم برهانه خازنانو د جحیم ته داسی حکم فرمائی چه)

---

خُذُوْهُ فَغُلُّوْهُ ﴿۳۰﴾ ثُمَّ الْجَحِيْمَ صَلُّوْهُ ﴿۳۱﴾ ثُمَّ فِيْ سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُوْنَ ذِرَاعًا فَاسْلُكُوْهُ ﴿۳۲﴾

---

ونیسئ دی! پس په ځنځیر سره وتړئ دی! بیا (اور د) د دوزخ ته وغورځوئ دی! بیا په یوه ځنځیر کښی چه ګزونه د هغه اویا ګزه وی پس ننه باسئ دی (په دوزخ کښی)!.

---

**تفسیر:** پرښتو ته به حکم کیږی چه هغه ونیسئ! او غاړکی ئی په غاړه کښی ورواچوئ! او په اور کښی ئی غوبه کړئ! او په هغه ځنځیر کښی ئی چه اوږد والی ئی اویا ګزه دی وتړئ! تر څو د سوځیدلو په وقت کښی هیڅ ونه خوځیدی شی ځکه چه د دی خوا او هغی خوا له خوځیدلو ځنی سوځیدونکی لږ څه تخفیف حس کولی شی.

**تنبیه:** له ګز ځنی د هغه ځای ګز مراد دی چه د هغه اندازه هم الله تعالیٰ ته معلومه ده.

إِنَّهُۥ كَانَ لَا يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٣٣﴾ وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلْمِسْكِينِ ﴿٣٤﴾

بیشکه دی و (په دنیا) چه ایمان ئی نه راووړ په الله لوی باندی او تاکید تیزوالی به ئی نه کاوه په طعام ورکولو د مسکینانو محتاجانو باندی.

**تفسیر:** یعنی چه په دی دنیا کښی اوسیده نه ئی د الله تعالیٰ حق پیژنده او نه ئی د بندګانو د حقوقو ساتنه کوله د فقیرانو او د محتاجانو لاس نیونه او ګروینه (تپوس) چیری حتیٰ نورو ته ئی هم په دی مورد کښی څه تشویق او ترغیب ور نه کړ بیا په الله تعالیٰ باندی همغسی چه ښائی ایمان ئی رانه ووړ نو نجات به چیری وی او کله چه کوم لوی او وړوکی کار د دوی له لاسه ونه ووت نو د دوی د عذاب د تخفیف هم هیڅ یو صورت نه دی پاتی.

فَلَيْسَ لَهُ ٱلْيَوْمَ هَٰهُنَا حَمِيمٌ ﴿٣٥﴾

نو نشته ده ته نن ورځ په دی ځای کښی کوم دوست (دافع د عذاب)

**تفسیر:** یعنی لکه چه هغه الله تعالیٰ ئی خپل دوست نه کړ نو نن به د هغه دوست څوک شی چه د ده حمایت وکړی او دی له عذابه وژغوری (وساتی). یا د مصیبت په وقت کښی تسلی ورکړی.

وَلَا طَعَامٌ إِلَّا مِنْ غِسْلِينٍ ﴿٣٦﴾ لَّا يَأْكُلُهُۥٓ إِلَّا ٱلْخَٰطِـُٔونَ ﴿٣٧﴾

او نشته هیڅ طعام (چه وئی خوری) مګر خو (د دوزخیانو د زخمونو) له وینو او زوو څنی چه نه خوری دغه (غسلین) مګر همغه خطاکاران ګناهګاران (ئی خوری).

**تفسیر:** له طعام او خوړو څخه انسان ته قوت رسیږی مګر دوزخیانو ته هیڅ یو داسی مرغوبه خواړه نه وررسیږی چه د هغوی د راحت او د قوت سبب شی. هو! یوائځی هغوی ته به د دوزخیانو د زخمونو زوی ورکولی کیږی چه هغه به پرته (علاوه) له هغو ګنهګارانو څخه بل څوک نشی خوړی او هغه هم د لوږی او تندی له شدته تیروتلی په دی خیال سره ئی خوری او داسی ئی ګڼی چه د هغه څنی هغه ته څه ګټه وررسیږی وروسته له هغه دا ورښکاریږی چه د هغه خوړلو د لوږی له ربړه (تکلیفه) لوی ربړ(تکلیف) ورپیښ کړ. **(اعاذنا الله من سائر انواع العذاب فی الدنیا والآخرة)**

فَلَآ أُقۡسِمُ بِمَا تُبۡصِرُونَ ﴿٣٨﴾ وَمَا لَا تُبۡصِرُونَ ﴿٣٩﴾ إِنَّهُۥ لَقَوۡلُ رَسُولٖ كَرِيمٖ ﴿٤٠﴾

نو قسم خورم زه په هغو شیانو چه وینئ ئی تاسی او په هغو شیانو چه نه ئی وینئ تاسی بیشکه دا (قرآن) خامخا خبره د رسول مکرم عزتمن ده.

**تفسیر:** یعنی هر څه چه د جنت او د دوزخ او نورو په نسبت بیان وشو دا کومه شاعری نه ده ـ او نه د کهانت اتکلونه او چتی (بیکاره) خبری دی. بلکه دا قرآن کریم د الله تعالیٰ کلام دی چه له آسمانه ئی یوه لویه پرښته حضرت جبریل علیه السلام راوړی ـ او یو لوی پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته ئی اوروی. هغه پرښته چه دغه قرآن کریم له آسمانه راوړی او دغه محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم چه هغه قرآن شریف په څمکه کښی انسانانو ته وررسوی دوی دواړه عزتمن رسولان دی د یوه کرامت خو تاسی پخپلو سترګو سره وینئ او د بل کرامت او لویی د هغه اول کریم د بیان څخنی تاسی ته ثابته شوی ده.

**تنبیه:** په دنیا کښی دوه راز (قسم) شیان وی یو هغه چه سړی ئی په سترګو سره لیدلی شی. بل هغه چه په سترګو سره ئی نشی لیدلی بلکه په عقل او نورو ذرائعو سره د هغه په منلو سره سړی مجبوریږی. مثلاً هومره چه مونږ خپلی سترګی ستری ـ او ځمکی ته ځان څیر کړو په محسوس دول (طریقه) سره د هغه په خوځیدلو باندی نه پوهیږو لیکن د حکیمانو د دلائلو او براهینو له اوریدلو څخه مونږ پر شوی د خپلو سترګو په غلطی باندی پوهیږو او د خپل عقل یا د نورو عقلاؤ د عقل په وسیله د خپلو حواسو دا غلطی اصلاح او تصحیح کوو. خو مشکل دا دی چه له مونږ څخنی د هیچا عقل هم له هسی غلطی او لندوالی څخنی محفوظ نه دی. آخر د هسی غلطی او لندوالی اصلاح تلافی په څه دول (طریقه) سره وکړه شی؟ بس په ګرد (تول) عالم کښی یو د حضرت الٰهی د وحی قوت دی چه هم پخپله دی له غلطی څخه محفوظ او معصوم دی او هم د نورو ګردو (تولو) عقلی قوتونو اصلاح او تکمیل کولی شی. همغسی چه څمونږ حواس تر یوه حده پوری رسیدلی عاجز پاتی کیږی او له هغه څخه وروسته مو عقل کار ورکوی هم داسی په کوم میدان کښی چه مجرد عقل کار نشی ورکولی یا پکښی وښوئیږی په داسی ځای کښی د عقل لاس نیونه د الٰهی وحی کوی او لوړ (اوچت) حقائق ورښیی. ښائی دلته په ﴿فَلَآ أُقۡسِمُ بِمَا تُبۡصِرُونَ وَمَا لَا تُبۡصِرُونَ﴾ باندی ئی ځکه قسم وریاد کړ یعنی هغه د جنت او دوزخ او د نورو حقائق چه په رومبنی آیت کښی بیان شو که د محسوساتو له دائری څخه د اوچتوالی لامله (له وجی) ستاسو په ککره کښی ځای ونه نیسی نو په اشیاؤ کښی د مبصراتو او غیر مبصراتو یا په نورو الفاظو د محسوساتو او غیر محسوساتو له تقسیمه وپوهیږئ چه دا د رسول کریم کلام دی چه د الٰهی وحی په وسیله د عقل او د حس له دائری څخه اوچت د حقائقو خبر راکوی. کله چه مونږ ډیر غیر محسوس بلکه د حس مخالف شیان پخپل عقل یا د نورو په تقلید منو ـ نو د ځینو نورو لوړو

(اوچتو) اشیاؤ په منلو کښې چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم مونږ ته خبر راکړی دی څه اشکال وینئ ؟.

وَّمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ ؕ قَلِيْلًا مَّا تُؤْمِنُوْنَ ۙ﴿۴۱﴾

او نه ده دا خبره د کوم شاعر بیخی لږ ایمان راوړئ تاسی (بلکه نه مؤمنان کیږئ).

**تفسیر:** یعنی د قرآن کریم په کلام الله والی باندی کله کله ستاسی په زړونو کښی له یقین ځینی پلوشی راځلیږی مګر ډیر لږ چه د نجات له پاره کافی نه دی. آخر ولی د دی کلام الله په نسبت د شاعری او کاهنی خبری کوئ؟ آیا د واقعی انصاف له مخی دا ویلی شئ؟ آیا د دا کوم شاعر کلام کیدی شی؟ او د شعر له قسم څخه دی؟ په شعر کښی د وزن ـ بحر او نورو شتوالی ضروری دی او په قرآن کښی د هغو شیانو نښه نشته. د شاعرانو خبری زیاتره بی اصله وی او زیاتره مضمونونه ئی یواځی وهمی او خیالی وی او حال دا دی چه په عظیم الشان قرآن کښی ټول ثابته حقایق او محکمه اصول په قطعیهٔ دلائلو او یقینیهٔ حجتونو سره بیان شوی دی!

وَلَا بِقَوْلِ كَاهِنٍ ؕ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ؕ﴿۴۲﴾

او نه ده دا خبره د کاهن (ترویتی لکه چه تاسو ګمان کوئ!) لږ پند اخلئ تاسی (بلکه نه ئی آخلئ).

**تفسیر:** یعنی په پوره فکر سره ئی رامعلوم کړی او ښه چرت (خیال) پکښی ووهئ چه دا د کوم شاعر او کاهن کلام نه دی. کاهنان په عربو کښی همغه خلق ؤ چه له بتانو ـ پیریانو ـ او نورو خرافاتو او رذائلو سره ئی تعلقات او مناسبات لرل ـ دوی خلقو ته د کومی جزوی غیبی خبری په نسبت ځینی مقفا او مسجع خبری اورولی ـ مګر د پیریانو په کلام کښی معجزی نه وی چه هغه غوندی بل څوک به خبری نشی کړی بلکه که کوم جن کوم ترویتی بامبر(کاهن) ته کومه خبره وروښیی بل پیری هم همغسی خبری ورښوولی شی او دا کلام یعنی پاک قرآن داسی یوه معجزه ده چه ګرد (ټول) جن او انس که سره یو ځای شی د هغه په شان کومه خبره نشی جوړولی. د نورو کاهنانو او ترویتیانو بامبرانو په خبره کښی یواځی د قافیی او د سجعی د رعایت دپاره ډیر الفاظ راوړی چه بالکل بیکاره وی خو په دغه معجز نظام کلام کښی یو حرف او توری یو حرکت هم بیکاره او بی فائدی نه دی. د کاهنانو خبری په څو مبهمو او جزوی او

معمولی خبرو باندی مشتملی وی خو د علومو او حقائقو ځنی مطلع کیدل ـ او په ادیانو ـ شرائعو ـ اصولو او قوانینو باندی پوهول او د معاش او معاد دستور او آئین معلومول ـ او د پرښتو او د آسمانونو له پتو خبرو ځنی خبر ورکول له هغوی ځنی له سره نشی کیدی او حال دا دی چه پاک قرآن له هسی خبرو ځنی ډک دی.

تَنۡزِيۡلٌ مِّنۡ رَّبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۴۳﴾

دغه (قرآن) نازل شوی دی له (جانبه د پالونکی) رب د عالمیانو.

**تفسیر:** ځکه چه د ګردی (تولی) دنیا د تربیت ډیر اعلیٰ او کلک اصول په دغه عظیم الشان قرآن کښی بیان شوی دی.

وَلَوۡ تَقَوَّلَ عَلَيۡنَا بَعۡضَ الۡاَقَاوِيۡلِ ﴿۴۴﴾ لَاَخَذۡنَا مِنۡهُ بِالۡيَمِيۡنِ ﴿۴۵﴾
ثُمَّ لَقَطَعۡنَا مِنۡهُ الۡوَتِيۡنَ ﴿۴۶﴾ فَمَا مِنۡكُمۡ مِّنۡ اَحَدٍ عَنۡهُ حٰجِزِيۡنَ ﴿۴۷﴾

او که له ځانه جوړولی (محمد) مونږ باندی ځینی خبری (چه مونږ ورته نه وی ویلی) نو هرومرو (خامخا) بدل اخیستی به ؤ مونږ له ده په یمین قوت عذاب سخت سره بیا به خامخا پری کړی ؤ مونږ له ده رګ د زړه (او وژلی به می ؤ) پس نه به ؤ هیڅوک له تاسی څخه (یعنی نه یئ تاسی) له قتل د) هغه (محمد) ځنی منع کوونکی (ما لره).

**تفسیر:** حضرت شاه عبدالقادر رحمة الله علیه لیکی «یعنی که دروغ پر الله تعالیٰ باندی جوړول نو اول به ئی الله تعالیٰ دښمن کیده او له لاسه به ئی نیوه قاعده ده چه د ورمیږ ووهلو په وقت کښی جلادان مقتول له ښی لاس څخه اخلی تر څو له خپل ځای څخه له سره ونه ښوریږی».
حضرت شاه عبدالعزیز رحمه الله فرمایلی چه د (تقول) ضمیر د رسول په لوری راجع کیږی. یعنی که رسول بالفرض والتقدیر کومه خبره د الله تعالیٰ پر لوری منسوبه کړی یا د هغه په کلام کښی بل شی له خپل لوری ګډوی چه الله تعالیٰ نه وی ویلی نو په هغه وقت کښی پر ده باندی عذاب نازل کیږی (العیاذ بالله) ځکه چه د هغه تصدیق او رښتیا والی له بیناتو آیاتو او دلائلو او براهینو په وسیله ظاهر او ښکاره شوی دی. اوس که په داسی خبری باندی سم د لاسه عذاب او سزا ورنه کړه شی نو د الله تعالیٰ له وحی ځنی به امن پورته کیږی ـ او هسی یو التباس او اشتباه پکښی لویږی چه د هغه اصلاح به ناممکنه وی چه دا د حکمت او تشریع ځنی منافی دی

په خلاف د دی هغه سړی چه د هغه رسالت په بيناتو آياتونو براهينو سره ثابت شوی نه وی بلکه ښکاره قرائن او علانيه دلائل د هغه د رسالت نفی کړی وی نو د هغه خبری چټی (بیکاره) او خرافاتی دی او هيڅ يو پوه او عاقل هغه د اعتناء وړ (لايق) نه بولی ـ او نه بحمدالله د الله تعالیٰ په دين کښی له هغه څخنی کوم التباس او اشتباه واقع کيږی او هم د هسی سړی تصديق کيدل د معجزاتو او نورو په وسيله مشکل دی. او ضرور دی چه الله تعالیٰ د هغه دروغجن کولو او رسوا ثابتولو دپاره داسی چاری وړ د مخه کړی چه د ده د رسالت له دعوی کولو څخه مخالفی وی. د هغه مثال داسی وګڼئ که باچا کوم سړی پر کوم منصب او ماموريت باندی مقرروی ـ او سند او فرمان او نور ورکوی ـ او چيری ئی استوی ـ اوس که له دغه سړی څخنی په خدمت کښی کوم خيانت څرګنديږی (ښکاريږی) ـ يا په باچايی کوم دروغ تړی ـ او بيا دا پری ثابتيږی نو سم د لاسه بلاتوقف هغه پخپل هيداد (انجام) او سزا رسيږی ليکن که کوم مزدور او معمولی سړی تل داسی اپلتی او چټی (بيکاره) خبری کوی چه د حکومت له خوا ماته داسی فرمان شوی دی يا ماته داسی امر راکړی شوی دی چه دغه او هغه وکړم نو هيڅوک نه د هغه هغو خبرو ته غوږ ږدی او نه ئی څوک له هسی خبرو څخنی خوله نيسی په هر حال په دی آيت کښی د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم پر نبوت باندی استدلال نه دی شوی بلکه دا راښوولی شوی دی چه دغه قرآن کريم د الله تعالیٰ خالص کلام دی چه په يوه حرف يا يوه توری کښی ئی شک او شبهه نشته او نه رسول اکرم صلی الله عليه وسلم په هغه کښی څه زياتتوالی کولی شی او نه سره د رسالت د دوی په شان هسی ګمان کاوه شی چه دوی د کومی خبری نسبت په غلطه سره الله تعالیٰ ته وکړی ـ د سفر استثنا د توريت په (۱۸) باب (۲۰) فقره کښی ده «که هغه نبی داسی ګستاخی وکړی چه هسی کومه خبره ځما په نامه وکړی چه ځما نه وی او نه هغه ته می د هغه د ويلو په نسبت څه امر ورکړی وی او هغه ئی د خپل معبود په نامه مشهوره کړی نو داسی پيغمبر دی وواژه شی». لنده ئی دا څوک چه پيغمبر وی له هغه څخنی داسی کار کيدل ممکن نه دی د دی آيت نظير د (البقرة) په سورت د دغه تفسير کښی يو بل آيت هم شته

﴿ وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَآءَهُم بَعْدَ الَّذِي جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ مَا لَكَ مِنَ اللَّهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴾ آيت ۱۲۰

---

وَإِنَّهُ لَتَذْكِرَةٌ لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٤٨﴾ وَإِنَّا لَنَعْلَمُ أَنَّ مِنكُم مُّكَذِّبِينَ ﴿٤٩﴾
وَإِنَّهُ لَحَسْرَةٌ عَلَى الْكَافِرِينَ ﴿٥٠﴾

---

او بيشکه دغه (قرآن) خامخا تذکره پند دی ويريدونکيو لره (چه نفع تری اخلی) او بيشکه مونږ ته خامخا معلوم دی دا چه بيشکه ځينی له تاسی څخه دروغ کوونکی دی (قرآن لره). او بيشکه دغه (انکار له قرآن) خامخا سبب

پښیمانی دی پر منکرانو کافرانو باندی (کله چه ووینی ثواب د مصدقینو)

**تفسیر:** یعنی له الله تعالیٰ څخه ویریدونکی د دی خبرو له اوریدلو څخه پند اخلی او د هغو په زړونو کښی چه ویره نه وی هغه ئی دروغ گڼی لیکن یو وقت داسی راتلونکی دی چه دا کلام او د هغوی دا دروغ بلل به د سخت حسرت او پښیمانی سبب شی او هلته به ارمان کوی چه ولی مو هسی رښتیا خبره دروغ وبلله چه نن د هغی لامله (له وجی) په دی آفت ککړ شوی یو.

وَإِنَّهُۥ لَحَقُّ ٱلْيَقِينِ ﴿٥١﴾ فَسَبِّحْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلْعَظِيمِ ﴿٥٢﴾ ع

او بیشکه دغه (قرآن) خامخا (عین) حق یقین (محض او د منلو وړ قابل) دی. پس تسبیح پاکی ووایه په نامه د رب خپل چه له گردو (ټولو) څخنی عظیم ډیر لوی دی.

**تفسیر:** یعنی دا کتاب خو داسی حق او رښتیا دی چه له حده تیر د منلو وړ (لایق) دی او د هغه مضامین له سره تر آخره پوری رښتیا او هیڅ یو شک او شبهه پکښی نشته ښائی چه هر سړی په هغه باندی ایمان راوړی او تل د الله تعالیٰ په عبادت او تسبیح او تحمید کښی مشغول اوسی.

**تمت سورة الحآقّة بفضل الله ومنه وكرمه فلله الحمد والمنة**

سورة المعارج مكية وهي اربع و اربعون آية وفيها ركوعان رقمها (۷۰) تسلسلهاحسب النزول (۷۹) نزلت بعد سورة «الحآقّة».

د «المعارج» سورت مکی دی (٤٤) آیتونه (۲) رکوع لری په نزول کښی (۷۹) او په تلاوت کښی (۷۰) سورت دی وروسته د «الحاقة» د سورت څخه نازل شوی دی.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

سَأَلَ سَآئِلٌۢ بِعَذَابٍ وَاقِعٍ ﴿١﴾ لِّلْكَٰفِرِينَ لَيْسَ لَهُۥ دَافِعٌ ﴿٢﴾

وغوښت غوښتونکی یو عذاب واقع کیدونکی لویدونکی. (منکرانو) کافرانو لره چه نشته هغه ته دفع کوونکی (چه راشی).

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «یعنی پیغمبر تاسی ته عذاب غوښتی دی چه هغه هیڅوک له تاسی ځنی نشی لری کولی» یا به غوښتونکی کفار وی چه ویل به یی آخر هغه عذاب ولی ژر نه راځی چه وعده ئی مونږ ته راکری شوی ده؟ ای الها! که د محمد دا وینا په رښتیا وی نو پر مونږ باندی له آسمانه تیږی (گټی) ولی نه وریږی؟ دا خبری به ئی د انکار او تمسخر له لاری کولی نو ځکه فرمائی چه عذاب غوښتونکی داسی یو آفت غواړی چه بالیقین پر هغه باندی لویدونکی دی او د هیڅچا له منع کولو څخه به نه منع کیږی دا د کفارو انتهائی درجه ناپوهی ـ حماقت او سپین سترگی ده چه د هسی یوه شی مطالبه او غوښتنه کوی.

مِّنَ اللّٰهِ ذِي الْمَعَارِجِ ﴿٣﴾

له طرفه د الله چه څیښتن (خاوند) د لویو لوړو (اوچتو) زینو دی (د ملائکو چه آسمانونه دی)

**تفسیر:** یعنی پرښتی او د مسلمانانو ارواح گرد (تول) آسمانونه درجه په درجه طی کوی د هغه د قرب دربار ته ورنزدی کیږی. یا د هغه بندگان د هغه حکمونه منی او د زړه له کومی زیار (کوشش) کوی او ځان په ښو اخلاقو او خویونو سره ښائسته کوی او د وصول او د نزدیکت روحانی مرتبی او درجی ته لوړ (اوچت) خیژی او د هغه حضور شرف ته رسیږی. او دا درجی د مسافت او د لریوالی او نژدیوالی له پلوه سره مختلف او متفاوت دی او فرق او توپیر لری ځینی داسی چی په یوه ربه (ثانیه) کښی د هغه د لوړوالی (اوچتوالی) سبب کیدی شی. لکه د اسلام کلمه په ژبه سره ویل. او ځینی داسی دی چه یوه گړی (ساعت) په هغه سره ترقی حاصلیږی لکه اودس او لمونځ کول. او ځینی په پوره یوه ورځ کښی لکه روژه یا په کامله میاشت کښی لکه د رمضان د میاشتی روژه نیول او ځینی په پوره یو کال لکه حج کول. (وعلیٰ هذا القیاس) هم دا راز (قسم) د پرښتو او د ارواحو عروج چه په هر کار باندی مقرر دی ورروسته له دی چه له هغه ځنی فراغت وموی هم مختلف او متفاوت دی او د قدوس الله تعالیٰ تدبیر او انتظام هسک (اوچت) او تیتی بیشماره درجی لری.

تَعْرُجُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَالرُّوْحُ اِلَيْهِ

چه خیژی ملائکی پرښتی او روح (جبریل) په طرف د هغه (مامور به ځای)

**تفسیر:** یعنی د پرښتی او د خلقو د ارواحو وړاندی والی او حاضری به اجراء کیږی. او دغه وړاندی والی او حاضری به کله اجراء کیږی؟ د دغه سؤال جواب پخپله الله اکرم شانه واعظم برهانه داسی فرمائی چه

فِيْ يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهٗ خَمْسِيْنَ اَلْفَ سَنَةٍ ۚ ﴿۴﴾

په هغه ورځ کښی چه ده اندازه د هغی پنځوس زره کاله (په نسبت سره کافرانو ته).

**تفسیر:** د قیامت ورځ د پنځوسو زرو کلونو په میچ ده. یعنی له اولی شپیلی (صور) څخه تر هغه پوری چه جنتیان په جنت کښی او دوزخیان په دوزخ کښی ننوځی پنځوس زره کاله تیریږی ـ او ګردی (تولی) پرښتی او د تولو مخلوقاتو ارواحونه په دی تدبیر کښی د خدمتګار په ډول (طریقه) ملګرتوب کوی. بیا به د دی لوی کار د مدت تر سره کیدلو څخنی وروسته د دوی عروج کیږی.
**تنبیه:** د نبی کریم په یوه حدیث کښی راغلی دی «خدائیګو دا دومره لویه ورځ به په ایماندار باندی داسی تیریږی لکه چه یو فرض لمونځ ئی اداء کری وی»

فَاصْبِرْ صَبْرًا جَمِيْلًا ﴿۵﴾

نو صبر وکړه (ای محمده!) صبر جمیل نیک (بی له شکوه ـ شکایت جزع فزع).

**تفسیر:** یعنی که دا کافران د انکار او تمسخر له لاری شورماشور کوی چه ژر هغه تاکلی (مقرر) عذاب راورسیږی! بیا هم تاسی تلوار مه کرئ! بلکه په صبر او استقلال سره اوسئ! مه مو زړه تنګوئ! او نه د پتی (شکایت) الفاظ (توری) ښائی د تاسی له خولی څخه ووځی! دا ستاسی صبر او د دوی تمسخر او ملندی به ضرور خپله اغیزه او اثر راښکاره کری.

اِنَّهُمْ يَرَوْنَهٗ بَعِيْدًا ﴿۶﴾ وَّنَرٰىهُ قَرِيْبًا ﴿۷﴾

بیشکه دغه (منکران) وینی هغه (عذاب یا قیامت) لری، او مونږ ئی وینو هغه (عذاب یا قیامت) نژدی.

**تفسیر:** یعنی د دوی په خیال کښې د قیامت راتګ لرې ورځې بلکه د دوی په زعم وقوع ئې هم ممکن نه دی او په عقل کښې ئې له سره نه ځائیږی. او مونږ ئې ډیر نژدی ګڼو او هسې بولو چه اوس راځې!.

يَوْمَ تَكُونُ السَّمَآءُ كَالْمُهْلِ ﴿٨﴾ وَتَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ ﴿٩﴾

هغه ورځ (به واقع شي پر منکرانو عذاب) چه وګرځې آسمان په شان د قلعی ژیړ ویلی شوی (توری ختی د تیلو) ځینو د (مهل) ترجمه د تیلو په ختو او تلچتو سره کړی ده. او وبه ګرځې غرونه په شان د وړی نداف وهلی رنګارنګ

**تفسیر:** وړۍ مختلف او راز راز (قسم قسم) رنګونه لری او د دغو غرونو رنګونه هم سره مختلف او راز راز (قسم قسم) دی لکه چه الله تعالیٰ د «فاطر» د سورت په څلورمه رکوع ۲۷ آیت کښې فرمائی ﴿ وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌۢ بِيضٌ وَّحُمْرٌ مُّخْتَلِفٌ اَلْوَانُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٌ ﴾ او د (القارعة) په سورت کښې ئې فرمایلی دی ﴿ كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوشِ ﴾ یعنی غرونه لکه رنګینی وهلی شوی وړۍ غوندی به وی دا خوا او هغه خوا به رغړی رارغړی.

وَلَا يَسْـَٔلُ حَمِيمٌ حَمِيمًا ﴿١٠﴾ يُّبَصَّرُونَهُمْ ؕ

او نه به کوی پوښتنه یو دوست له بل دوسته (ځکه چه مشغول به وی په ځان خپل) اګر که په نظر ورځې دوی ته هغوی او ښه به ئې وپیژنی

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب لیکی «یعنی ګرد (تول) به سره په نظر راځې او دا به ورښکاریږی چه د دوی دوستی چتی (فضول) او بیکاره وه». هر یو به د بل حال او احوال ګوری مګر یو له بل سره څه مرسته (مدد) او حمایت نشی کولی او هر یو به پخپل فکر کښې ډوب تللی وی.

يَوَدُّ الْمُجْرِمُ لَوْ يَفْتَدِي مِنْ عَذَابِ يَوْمِئِذٍۢ بِبَنِيهِ ﴿١١﴾
وَصَاحِبَتِهِ وَأَخِيهِ ﴿١٢﴾ وَفَصِيلَتِهِ الَّتِي تُـْٔوِيهِ ﴿١٣﴾ وَمَنْ فِي
الْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ يُنْجِيهِ ﴿١٤﴾

خوښوی به مجرم ګنهګار (کافر) چه فدیه ورکړی له عذابه د دغی ورځی په ځامنو خپلو سره او ملګری ښځی خپلی سره او ورور خپل سره او خپلوانو قبیلو خپلو هغو سره چه ځایونه ئی ورکول دوی ته په دنیا کښی او هغه څوک چه په ځمکه کښی دی تول بیا وژغوری (وساتی) ځان خپل نه ده داسی چه آرزو کوی دوی

**تفسیر:** یعنی غواړی به چه ګرد (تول) کور او کهول او خیل که ئی له لاسه پوره وی او په درد ئی وخوری له خپله ځانه قربان کړی او پخپله فدیه کښی ورکړی او خپل ځان وژغوری (وساتی) مګر دا به امکان ونه لری او خلاص به نشی له عذابه ځکه چه:

كَلَّاۗ اِنَّهَا لَظٰى ۝١٥ نَزَّاعَةً لِّلشَّوٰى ۝١٦

بیشکه دا (اور د دوزخ) لمبی وهونکی دی ویستونکی دی (له کفارو څخه) د اینی (یا د پوستکو د لاسو او د پښو د دوی)

**تفسیر:** یعنی هغه اور به مجرم کله پرېږدی هغه به ئی پوستکی وباسی او تر اینی (جګر) پوری ئی رسیږی او اینه ئی هم تری وباسی.

تَدْعُوْا مَنْ اَدْبَرَ وَتَوَلّٰى ۝١٧ وَجَمَعَ فَاَوْعٰى ۝١٨

رابولی (دا دوزخ) هغه څوک چه شا ئی کړی وی او مخ ئی ګرځولی وی (له ایمانه). او تول کړی ئی وی (مال) نو ساتلی ئی وی (د الله حق ئی تری نه وی ورکړی).

**تفسیر:** یعنی د دوزخ له لوری به یو راښکودل او ناری او سوری وی. هومره سړی چه په دنیا کښی د حق او رښتیا په لوری شا اړولی او د ښو چارو څخنی مخ ګرځولی وی او د مالونو او شتو په تولولو او کلکو ساتلو کښی مشغول و هغه ګرد (تول) به د دوزخ په لوری راښکودل کیږی. په ځینو آثارو کښی شته چه اول به دوزخ د (قال) په ژبه سره داسی وائی «**الیّ یا کافر! الیّ یا منافق! الیّ یا جامع المال!** - یعنی ماته راشه ای کافره! ماته راشه ای منافقه ماته راشه ای مال تولونکیه!» خو خلق به دی خوا او هغه خوا سره تښتی. وروسته له دی نه به یو لوی ورمیږ لرونکی شی له دوزخه سر راوباسی او تښتیدونکی دوزخیان به پخپل اوږد

شوند سره هسی تولوی او پخپلی گیدی کښی به یی اچوی لکه چه مرغه پخپلی مښوکی سره دانی تولوی (العیاذ بالله)

إِنَّ الْإِنسَانَ خُلِقَ هَلُوعًا ﴿١٩﴾ إِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ جَزُوعًا ﴿٢٠﴾ وَإِذَا مَسَّهُ الْخَيْرُ مَنُوعًا ﴿٢١﴾

بیشکه انسان بنی آدم پیدا کړی شوی دی هلوع حارص بی صبره او کله چه ورسیږی ده ته شر خرابی صبر نه کوی ډیر فریاد کوی او کله چه ورسیږی ده ته ښیګڼی (فایدی) نو بی توفیق کیږی منع کوونکی شی (حق لره)

**تفسیر:** یعنی په هیڅ لوری پخپلی بهادرئ ـ کلکتوب ـ پوخوالي ـ قوت او همت نه ورښکاروی. که فقر ـ فاقه ـ ناروغی او سختی پری راشی نو بی صبری ورښکاروی ـ ویریږی او ناامیده کیږی او هسی ګڼی چه اوس د هغه دپاره هیڅ یوه لاره نه ده پاتی چه په هغی کښی له هغه ربړ (تکلیف) او مصیبت نه ځان وژغوری (وساتی). که مال ـ شته ـ دولت روغتیا ـ عظمت او پت ور په برخه شی نو د ښیګڼی (فایدی) دپاره به هیڅ خپل لاس نه غځوی او د الله تعالیٰ په لاره کښی هیڅ یو شی په اخلاص او مینی سره نه لګوی. هو! هغه سری له دی وینا ځنی مستثنیٰ دی چه د هغوی بیان دغه دی چه اوس راځی.

إِلَّا الْمُصَلِّينَ ﴿٢٢﴾ الَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ دَائِمُونَ ﴿٢٣﴾

مګر (نه دی پیدا کړی شوی هلوع هغه) لمونځ کوونکی چه دوی پر لمانځه خپل دائم قائم دی او هیڅکله او هیچیری هیڅ یو لمونځ تری نه فوت کیږی.

**تفسیر:** یعنی د لمانځه ناغه کوونکی نه دی بلکه په مداومت او انتظام او التزام سره ئی کوی. او د لمانځه په حالت کښی په ډیر سکون او اطمینان سره سم برابر لمونځ کوی او تل لمانځه ته متوجه وی.

وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُومٌ ﴿٢٤﴾ لِّلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ ﴿٢٥﴾

او هغه کسان (هم هلوع نه دی) چه په اموالو د هغوی کښی حق برخه معلومه

وی (له زکوٰة او صدقات) دپاره د غوښتونکیو (فقیرانو) او محروم (فقیرانو چه سؤال نه کوی).

**تفسیر:** د (المؤمنون) په سورت کښې د دی تفسیر تیر شوی دی. ځمونږ د دغه پښتو «فوائد موضح الفرقان» وګورئ.

وَالَّذِيْنَ يُصَدِّقُوْنَ بِيَوْمِ الدِّيْنِ ﴿۲۶﴾

(او هغه کسان هم هلوع نه دی) چه مصدق باور کوونکی وی په ورځ د انصاف جزاء باندی.

**تفسیر:** یعنی د هم دی یقین په بناء باندی ښه کارونه کوی چه په هغه ورځ به ئی په کار ورځی.

وَالَّذِيْنَ هُمْ مِّنْ عَذَابِ رَبِّهِمْ مُّشْفِقُوْنَ ﴿۲۷﴾

او هغه کسان (هم هلوع نه دی) چه دوی له عذابه د رب خپل ویریدونکی وی (اګر که په عبادت کښې ئی ډیر کوښښ هم کړی وی).

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ له عذابه ویریږی او په خرابو کارونو پسی هیڅ نه ګرځی. ځکه چه:

اِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمْ غَيْرُ مَاْمُوْنٍ ﴿۲۸﴾

بیشکه له عذابه د رب دوی نه دی پر امن کړی شوی (بلکه تل تری ویریږی).

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ عذاب داسی یو شی نه دی چه بنده د هغه له لوری ځنی مأمون شی او بی ویری کینی. بالخاصه منکران او مجرمان خو له سره تری په امان نه دی.

وَالَّذِيْنَ هُمْ لِفُرُوْجِهِمْ حٰفِظُوْنَ ﴿۲۹﴾ اِلَّا عَلٰٓى اَزْوَاجِهِمْ اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ فَاِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُوْمِيْنَ ﴿۳۰﴾

فَمَنِ ابْتَغٰى وَرَآءَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْعٰدُوْنَ ﴿۳۱﴾

او هغه کسان (هم هلوع نه دی) چه دوی د خپل شهوت د ځایونو ساتونکی دی. مګر په ښځو خپلو باندی او په هغی وینځی خپلی باندی چه ئی مالکان شوی دی ښی لاسونه د دوی نو بیشکه دوی نه دی ملامت کړی شوی (ځکه چه خپلی ښځی ـ وینځی پری حلالی دی) نو هغه چه غواړی پرته (علاوه) له دغو (حلالو ښځو او وینځو خپلو) څخه پس هم دوی دی له حده تیریدونکی.

**تفسیر:** یعنی که څوک پرته (علاوه) له خپلی حلالی ښځی یا وینځی څخه بل کوم ځای د شهوت د قضاء دپاره ولټوی نو هغه د اعتدال د حد او جواز څخه د باندی قدم پړدی. نو متعه موقته بهیمه او استمناء او نور ناروا ده.

وَالَّذِيْنَ هُمْ لِاَمٰنٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رٰعُوْنَ ﴿۳۲﴾

او هغه کسان (هم هلوع نه دی) چه دوی امانتونو خپلو لره او وعدو خپلو لره ساتونکی دی (او په سر ئی رسوی)

**تفسیر:** په دی کښی د الله تعالیٰ او د بندګانو د ګردو (تولو) حقوق راغلل. ځکه د سړی هومره قوتونه چه شته هغه ګرد (تول) د الله تعالیٰ امانت دی نو ښائی هغه د الله تعالیٰ په راښوولو مواقعو کښی صرف کړی شی او هغه قول او اقرار چه په ازل کښی تړلی دی له هغه څنی خپله غاړه ونه غړوی!.

وَالَّذِيْنَ هُمْ بِشَهٰدٰتِهِمْ قَآئِمُوْنَ ﴿۳۳﴾

او هغه کسان (هم هلوع نه دی) چه هم دوی په شاهدی خپلی باندی سم ولاړ وی (نه پټوی او نه تزئید او تنقیص پکښی کوی)

**تفسیر:** یعنی که ضرورت پیښ شی نو بی له زیادت او لړوالی او لحاظ او رعایت شاهدی ورکوی او حقه خبره هیڅ کله نه پټوی.

وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ﴿۳۴﴾

او هغه كسان (هم هلوع نه دی) چه هم دوی پر لمانځه خپل باندی ساتنه کوی (پخپلو وقتونو ئی اداء کوی)

**تفسير:** يعنی د لمونځونو د اوقاتو ـ شرائطو او آدابو ځنی باخبر وی او د هغه صورت او حقيقت د ضائع کيدلو ځنی تل خپل ځان ساتی.
**تنبيه:** په تکرار د لمانځه کښی بهتری او افضليت د لمانځه پر نورو عباداتو باندی ثابتيږی **«الصلوٰة عماد الدين»**.

أُولَٰٓئِكَ فِي جَنَّٰتٍ مُّكۡرَمُونَ ۝٣٥

دغه کسان به (چه موصوف په دغو اتو صفاتو دی) په جنتونو کښی به وی مکرم عزتمن کړی شوی.

**تفسير:** يعنی د جنتيانو هم دا اته صفتونه دی چه په لمانځه سره شروع او په لمانځه باندی ختم شوی دی تر څو معلوم شی چه لمونځ د الله تعالیٰ په دربار کښی څومره مهتم بالشان او الزم او ضروری عبادت دی. د هر يوه مسلمان په وجود کښی چه دا صفات او ستاينی وی نو په هغه کښی به د «هلوع» مذمت نه وی بلکه د اوم زړه په ځای په هغه کښی به د عزم ـ همت ـ قوت او قدرت صفتونه وی.

فَمَالِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ قِبَلَكَ مُهۡطِعِينَ ۝٣٦ عَنِ ٱلۡيَمِينِ وَعَنِ ٱلشِّمَالِ عِزِينَ ۝٣٧ أَيَطۡمَعُ كُلُّ ٱمۡرِيٕٖ مِّنۡهُمۡ أَن يُدۡخَلَ جَنَّةَ نَعِيمٖ ۝٣٨ كَلَّآۖ

نو څه شوی دی هغو کسانو لره چه کافران شوی دی چه طرف ستا نه راځغاستونکی دی. له ښی لوری څخه او له کيڼ لوری څخه ناست ډلی ډلی (حلقه وهونکی) آيا طمع کوی هر سړی له دوی ځنی چه داخل به کړی شی په جنت د نعمتونو کښی نه ده داسی (چه دوی طمع کوی د دخول د جنت).

**تفسير:** يعنی د قرآن کريم د تلاوت او د جنت د ذکر له اوريدلو څخه وروسته کافران ډلی سره جوړوی او ستاسی په لوری په ګډه سره راځی ـ خاندی ـ ملندی وهی ـ اپلتی وائی مسخری کوی. آيا سره له هسی چارو به دوی داسی طمع او هيله (اميد) لری چه د جنت په باغونو کښی به

سره له مؤمنانو نننوځی؟ لکه چه هغوی به ویل که مونږ ته د الله تعالیٰ په لوری د ورتګ اتفاق ولویږی نو مونږ به هم برابر جنت ته ځو او هلته به مونږ خورا (دیر) بهتری او لوړی (اوچتی) مرتبی ته رسیږو. داسی به هیڅ ونشی او د هغه عادل او حکیم الله تعالیٰ په مخ کښی هیڅیری داسی چاری کیدونکی نه دی بلکه هغه تل له هر چا سره د هغه له چارو سره سمه معامله کوی.
**تنبیه:** ابن کثیر رحمة الله علیه د دی آیتونو مطلب داسی اخیستی دی یعنی ستاسی په لوری دا منکرین ولی په ډیره جلدی او تلوار سره درځغلی او مندی وهی او ښی او کینی خوا ته ډلی ډلی پنډیږی! یعنی د پاک قرآن له اوریدلو ځنی ولی دومره تور خوری او بد وړی او لری تښتی؟ نو آیا سره له دی وحشت او نفرت دوی داسی توقع او هیله (امید) هم لری چه له دوی څخه به هر یو سړی بی له اندیښنی جنت ته ننوځی؟ هرګز داسی نه ده **(هذا کما قال الله تعالیٰ** ﴿فَمَا لَهُمْ عَنِ التَّذْكِرَةِ مُعْرِضِينَ كَأَنَّهُمْ حُمُرٌ مُّسْتَنفِرَةٌ فَرَّتْ مِن قَسْوَرَةٍ﴾ د «المدثر» دوهمه رکوع.

## إِنَّا خَلَقْنَاهُم مِّمَّا يَعْلَمُونَ ﴿٣٩﴾

بیشکه مونږ پیدا کړی مو دی دوی له هغی (نطفی) څخه چه پری پوهیږی دوی (چه ضعیفه او حقیره ده).

**تفسیر:** یعنی د خاوری غوندی یوه حقیر شی یا له منی غوندی یو ناولی شی ځنی پیدا شوی هغه چیری د جنت وړ (لایق) وی تر څو چه په ایمان او وحدت سره خپل ځان پاک نه کړی. او په رښتیا سره معظم او مکرم نه شی. او امکان لری چه ﴿إِنَّا خَلَقْنَاهُم مِّمَّا يَعْلَمُونَ﴾ اشاره د ﴿إِنَّ الْإِنسَانَ خُلِقَ هَلُوعًا﴾ په لوری وی چه څو آیته پخوا له دی څخه تیر شوی دی یعنی هغه خو پیدا شوی دی په داسی صفتونو سره ولی دی خپل ځان د ﴿إِلَّا الْمُصَلِّينَ الَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ دَائِمُونَ﴾ په استثنا کښی نه دی داخل کړی نو بیا د جنت مستحق څرنګه کیدی شی؟
په دی تقدیر سره د ﴿مِّمَّا يَعْلَمُونَ﴾ ترکیب به د ﴿خُلِقَ الْإِنسَانُ مِنْ عَجَلٍ﴾ له قبیلی څخه وی.

## فَلَا أُقْسِمُ بِرَبِّ الْمَشَارِقِ وَالْمَغَارِبِ

نو قسم خورم په رب (مالک) د مشرقونو او (په رب مالک د) مغربونو

**تفسیر:** لمر سپوږمی او نور ستوری هره ورځ له یوه نوی ځایه راښکاره کیدیږی او په یو نوی ځای راپتیږی نو د دی نقطو په اعتبار ئی مشارق او مغارب ورته وویل ځما مرحوم پلار الحاج مولوی احمد علی الکشککی د «مشارق» او «مغارب» مدلول او مآل په سفلیاتو کښی مشرقی او مغربی

ځمکې راز راز (قسم قسم) خلق او هستیدونکې او موجودات او په علویاتو کښې لمر سپوږمۍ ستورې او نور موجودات راښوولې دي. برهان الدین کشککی.

إِنَّا لَقَٰدِرُونَ ﴿٤٠﴾ عَلَىٰٓ أَن نُّبَدِّلَ خَيْرًا مِّنْهُمْ وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوقِينَ ﴿٤١﴾

بیشکه مونږ خامخا قادر یو په دې باندې چه بدل راوړو خیر ډیر غوره له دوی څخه او نه یو مونږ عاجز کړی شوی (له ارادې خپلې).

**تفسیر:** یعنې کله چه د هغوی په ځای له هغوی ځنې ښه سړي راوستلی شو نو پخپله دوی ولې نشو ژوندي کولی؟ یا د (خیراً منهم) څخه د دوی دوهم ځلې ژوندي کول وي. ځکه که عذاب وي یا ثواب دوهم ژوندون به له دې ژوند څخه په هر حال اکمل وي. یا دا مطلب - پریږدئ چه دا د مکې کافران خندا او مسخرې وکړي او ملنډې ووهي مونږ به د اسلام د خدمت دپاره له دوی ځنې غوره قوم راولو لکه چه د قریشو په ځای ئې د مدینې انصار ودرول او مکه والان بیا د هغوی د واک (اختیار) ځنې بهر ونه وتې شو او په پای (آخر) کښې ئې د خپلو شرارتونو خوند وڅکو.

**تنبیه:** د مشارق او د مغارب قسم ئې ښائي د دې دپاره یاد کړی وي چه هغه الله چه هره ورځ مشرق او مغرب بدلوي نو آیا هغه ته ستاسې بدلول کوم سخت او مشکل کار دی ؟.

فَذَرْهُمْ يَخُوضُوا۟ وَيَلْعَبُوا۟ حَتَّىٰ يُلَٰقُوا۟ يَوْمَهُمُ ٱلَّذِى يُوعَدُونَ ﴿٤٢﴾

نو پریږده دوی (ای محمده!) چه ننوځي مشغولیږي په باطلو کښې او لوبې کوي په دنیا کښې تر هغه پورې چه پیوست شي دوی له هغې ورځې خپلې سره چه وعده ئې کړی شوې ده له دوی سره (چه بدر یا قیامت دی)

**تفسیر:** یعنې د لږو ورځو څند (ایسارتیا) دی بیا به د هغوی سزا یقیني وي. **(هذا کان قبل الامر بالقتال)**

يَوْمَ يَخْرُجُونَ مِنَ ٱلْأَجْدَاثِ سِرَاعًا كَأَنَّهُمْ إِلَىٰ نُصُبٍ يُوفِضُونَ ﴿٤٣﴾

هغه ورځ چه بهر راویستل شي دوی له قبرونو څخه چه ځغلیدونکی به وی لکه چه دوی په طرف د نښو چابک ځغلی.

**تفسیر:** یعنی څرنګه چه څوک د کومی خاصی نښی او علامی په لوری په منډو سره ځغلی او یو له بله غواړی چه ژر ورسیږی. یا به «نصب» له هغو بتانو څخه مراد وی چه د کعبی په شاؤخوا کښې درولی شوی ؤ چه کافرانو دغو بتانو ته هم په ډیر شوق او عقیده سره تلل او وردانګل.

خَاشِعَةً أَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ذَٰلِكَ الْيَوْمُ الَّذِي كَانُوا يُوعَدُونَ ﴿٤٤﴾

حال دا چه ذلیلی خواری به وی سترګی د دوی چه پټ کړی به وی دوی لره ذلت خواری دا ورځ ده (هغه د قیامت) چه ؤ دوی چه وعده ورسره کړی شوی وه (په دنیا کښې).

**تمت سورة المعارج بفضل الله ومنه وكرمه**

سورة نوح مكية وهی ثمان وعشرون آية وفيها ركوعان رقمها(۷۱) تسلسلهاحسب النزول (۷۱) نزلت بعد سورة النحل .

د «نوح» سورت مکی دی (۲۸) آیتونه (۲) رکوع لری په تلاوت کښې (۷۱) او په نزول کښې هم
(۷۱) سورت دی وروسته د «النحل» له سورته نازل شوی دی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

إِنَّا أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ أَنْ أَنذِرْ قَوْمَكَ مِن قَبْلِ أَن
يَأْتِيَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١﴾

بیشکه مونږ لیږلی وو مونږ نوح طرف د قوم د ده ته په دی سره چه وویروه ته قوم خپل پخوا له هغه څخنی چه راشي دوی ته عذاب دردناک (په دنیا او عقبا کښی که ایمان رانه وړی).

**تفسیر:** یعنی پخوا له دی چه په دنیا کښی د خپل کفر او شرارت لامله (له وجی) له یو لوی طوفان سره مقابل او په آخرت کښی د دوزخ له عذاب سره مخامخ شی ښائی چه مؤمنان شی.

قَالَ يٰقَوۡمِ اِنِّیۡ لَکُمۡ نَذِیۡرٌ مُّبِیۡنٌ ﴿۲﴾ اَنِ اعۡبُدُوا اللّٰهَ وَ اتَّقُوۡهُ وَ اَطِیۡعُوۡنِ ﴿۳﴾

وویل (نوح) ای قومه ځما بیشکه زه تاسی ته ویروونکی ښکاره یم (په دی سره چه وایم تاسی ته) چه بندګی کوئ تاسی الله ته او وویریږئ له الله څخنی او ومنئ تاسی ځما خبری (په شرعیه ؤ امورو کښی)

**تفسیر:** یعنی له الله تعالیٰ څخه وویریږئ! او کفر او معصیت پریږدئ! او د اطاعت او عبادت لاری خپلو ځانونو ته غوره کړئ!.

یَغۡفِرۡ لَکُمۡ مِّنۡ ذُنُوۡبِکُمۡ وَ یُؤَخِّرۡکُمۡ اِلٰۤی اَجَلٍ مُّسَمًّی ؕ

چه وبښی (الله) تاسی ته (تول یا ځینی) ګناهونه ستاسی (چه حقوق الله دی) او وروستی به کړی (الله) تاسی (بی له عذابه) تر نیتی په نامه کړی شوی پوری (چه نیته د موت ده).

**تفسیر:** یعنی که ایمان مو راوړو نو پخوا له ایمانه هغه حقونه چه تاسو تلف کړی دی هغه به دروبښلی شی او د کفر او شرارت لامله (له وجی) د کوم عذاب راتلل چه مقدر ؤ هغه به د ایمان راوړلو څخنی وروسته نه راځی. بلکه تاسی ته مهلت درکاوه شی چه خپل طبیعی عمر سر ته ورسوئ او د نورو ساکښانو (جاندارو) د موت او د حیات له عمومی قانون سره سم په مقرر شوی وقت کښی پر تاسی باندی مرګ راځی ځکه چی له مرګ څخنی په هیڅ دول (طریقه) هیچا ته چاره نشته دغه په هغه تقدیر چه «من» زائده ومنلی شی او که «من» تبعیضیه وویلی شی لکه چه مونږ په ترجمه کښی آخیستی دی نو حقوق الله به تری مراداوه شی.

إِنَّ أَجَلَ اللَّهِ إِذَا جَاءَ لَا يُؤَخَّرُ

بیشکه چه اجل نیته د الله (لپاره د عذابولو د تاسی که ایمان را نه وړئ) کله چه راشی نه وروستی کیږی.

**تفسیر:** یعنی د ایمان د نه راوړلو په صورت کښی د هغه عذاب وعده چه شوی ده که هغه پر سر باندی ودریږی نو څوک ئی مخه نشی نیولی او نه د یوی شیبی دپاره وړاندی وروسته کیږی. یا دا مطلب چه مرګ پخپله مقرره وعده باندی راتلونکی دی او په هغه کښی هیڅ تاخیر نشی پیښیدلی والظاهر هوالاول. حضرت شاه صاحب د دی آیتونو تقریر په بل ډول (طریقه) کوی. «یعنی بندګی وکرئ! تر څو د انسان نوع په دنیا کښی تر قیامت پوری پاتی شی. او حال دا دی چه د قیامت په راتګ کښی هم هیڅ ځنډ (ایسارتیا) نشته. که ګرد (تول) سره یو ځای شی او د الله تعالیٰ بندګی پریږدئ نو ګرد (تول) به سره یو ځای مړه کیږئ! طوفان هم داسی راغلی ؤ چه په هغه کښی ګرد (تول) سره ډوب شول او یو کافر انسان هم ژوندی پاتی نشو او یوازی د حضرت نوح علیه السلام بندګی د بنی نوع انسان د ژغورنی (نجات) سبب وګرځیده.

لَوْ كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٤﴾

که چیری یئ تاسی چه پوهیږئ.

**تفسیر:** یعنی که تاسی پوه لرئ نو دا ګردی (تولی) خبری د پوهیدلو او د عمل کولو وړ (لایق) دی.

قَالَ رَبِّ إِنِّي دَعَوْتُ قَوْمِي لَيْلًا وَنَهَارًا ﴿٥﴾ فَلَمْ يَزِدْهُمْ دُعَائِي إِلَّا فِرَارًا ﴿٦﴾

وویل (نوح) ای ربه ځما بیشکه ما ومی باله قوم خپل (توحید ته) شپه او ورځ (تل) نو زیات نه کړ دوی ته دعوت بلنی ځما مګر تیښته (له ایمان او اطاعت څخه)

**تفسیر:** یعنی حضرت نوح علیه السلام تر نهه نیم سوو کلونو پوری دوی وپوهول کله چه د امید هیڅ یوه هیله ورته پاتی نشوه نو مأیوس او خفه شو د الله تعالیٰ په دربار کښی ئی عرض وکړ چه ای الله! ما له خپل لوری د دعوت او تبلیغ حق ادا کړ او یوه شیبه می هم څه معطلی او ډیل نه دی کړی د ورځی په رڼا (رڼرا) او د شپو په تیارو کښی می تل تر تله ستا په لوری بلنه کړی

ده مګر نتیجه داسی شوه چه هر څو هر څومره می دوی ستا په لوری وبلل دوی هومره له تا څخه لری شول. او هومره چه ځما د لوری د هغوی په نسبت د شفقت او لورینی (مهربانی) اظهار وشو زیات له هغه څخه د دوی له خوا د نفرت او عداوت معامله راسره وشوه.

وَإِنِّي كُلَّمَا دَعَوْتُهُمْ لِتَغْفِرَ لَهُمْ جَعَلُوٓا أَصَابِعَهُمْ فِيٓ ءَاذَانِهِمْ

او بیشکه زه هر کله چه وبولم دوی (وحدت او طاعت ته) د دی دپاره چه وبښی ته دوی نو ننباسی دوی ګوتی خپلی په غوږونو خپلو کښی (چه ځما دعوت وا نه وری)

**تفسیر:** ځکه چه هغوی ځما د خبرو اوریدل نه غواړی. او دا ئی پر ځان اخیستی ده چه دا غږ خامخا د هغوی غوږونو ته ونه رسیږی.

وَاسْتَغْشَوْا ثِيَابَهُمْ

او چاپیر کړی نغښتلی ئی ؤ ځانونه خپل په جامو خپلو (لپاره د دی چه ما ونه وینی)

**تفسیر:** تر څو هغوی ځما او زه د هغوی صورت ونه ګورم که کوم وقت په ګوتو سره هغوی غوږونه په ښه دول (طریقه) بند نشی لږ زړوکی هم په هغو کښی مندی او غواړی چه هیڅ یوه خبره په هیڅ یوه دول (طریقه) او عنوان د هغوی په غوږونو کښی ور نه ننوځی.

وَأَصَرُّوا وَاسْتَكْبَرُوا اسْتِكْبَارًا ۝

او همیشه والی کوی (په کفر خپل) او سرکشی کوی (له متابعته ځما) سرکشی کول.

**تفسیر:** یعنی په هیڅ دول (طریقه) هغوی له خپلی طریقی څخه مخ اړوونکی نه دی او د هغوی غرور دوی ته اجازه نه ورکوی چه ځما د اسلامی دعوت خبرو ته غوږ کیږدی.

ثُمَّ اِنِّیْ دَعَوْتُهُمْ جِهَارًا ﴿۸﴾

بیا بیشکه ما وبلل دوی په ښکاره (بلنه سره).

**تفسیر:** یعنی د هغوی په مرکو او جرګو کښې مې ویناوی وکړی. او په مجلسونو کښې مې هم دوی په ښه شان سره وپوهول.

ثُمَّ اِنِّیْ اَعْلَنْتُ لَهُمْ وَاَسْرَرْتُ لَهُمْ اِسْرَارًا ﴿۹﴾

بیا بیشکه ما ښکاره وینا وکړه دوی ته او په پټه می وینا وکړه دوی ته.

**تفسیر:** یعنی پرته (علاوه) له جرګو او مجامعو څخه می هم ګوښی (بیل) له هغوی سره خبری وکړی او صافی می هم هغوی ته وویلی او په اشارو او کنایاتو می هم وپوهول. په لوړ (اوچت) غږ می هم وینا وکړه او په ورو می هم وویل. لنده ئی دا چه د پند هیڅ یو عنوان او هیڅ یو رنګ می هم پری نښود.

فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ اِنَّهٗ كَانَ غَفَّارًا ﴿۱۰﴾

نو ومی ویل دوی ته ښښنه وغواړئ له ربه خپله (له شرکه) بیشکه هغه (الله) دی ډیر ښښونکی (توبه کوونکیو لره هر کله چه توبه وباسی).

**تفسیر:** یعنی سره له سلهاؤ کلونو له پوهولو څخه چه په تاسی باندی ئی څه اثر ونه کړ که اوس څما دا خبری ومنئ او د خپل حقیقی مالک په لوری مو سرونه تیټ کړئ او له هغه څخنی د خپلو تیروتو او خطاؤ ښښنه وغواړئ نو ستاسی هغه پخوانی ګناهونه او قصور ښښل کیږی څکه چه الله تعالیٰ لوی ښښونکی دی او ستاسی هغه ګرد (تول) پخوانی ګناهونه به درمعافوی.

يُّرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا ﴿۱۱﴾ وَّيُمْدِدْكُمْ بِاَمْوَالٍ
وَّبَنِيْنَ وَيَجْعَلْ لَّكُمْ جَنّٰتٍ وَّيَجْعَلْ لَّكُمْ اَنْهٰرًا ﴿۱۲﴾

راو به لیږی باران پر تاسی باندی ډیر اوریدونکی (باران) او در ډیروی کومک به کوی له تاسی سره په مالونو او ځامنو سره او وبه ګرځوی تاسی ته باغونه او وبه ګرځوی تاسی ته ویالی.

**تفسیر:** یعنی د ایمان او استغفار په برکت به هغه قحط او سوکړه چه له څو کلونو راهیسی په هغه کښی اخته یئ لری کیږی ـ او الله تعالیٰ ډیری ښی وریدونکی وریځی درلیږی چه د هغه د وریدو لامله (له وجی) به مو کښتونه (فصلونه) او باغونه پنیږی (اوبه کیږی) میوی او غلی ډیریږی ـ بودګان (څاروی) او نور ساکښان (جاندار) به څربیږی ـ شودی او غوړی به ډیریږی او هغه ښځی چه د کفر او معصیت له سببه اوس شندی شوی دی هلکان به وځیږوی. لنده ئی دا چه د دنیا د عیش او نشاط سره د آخرت لوئی درجی هم مومی.

**تنبیه:** ځمونږ حضرت امام ابوحنیفة الکابلی ثم الکوفی رحمة الله علیه د دی آیت څخه دا نتیجه اخیستی ده چه «استسقاء» روحاً او په اصل حقیقت کښی استغفار او انابت دی او لمونځ د انابت او د استغفار یو ښه صورت دی چه له صحیحو سنتو څخه ثابت شوی دی.

مَا لَكُمْ لَا تَرْجُوْنَ لِلّٰهِ وَقَارًا ﴿۱۳﴾

څه شوی دی په تاسی باندی چه امید هیله (ارزو) نه لرئ له الله څخه د وقار لوئی عزت.

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ له لوئی ځنی ښائی هیله (امید) وکړه شی که تاسی د هغه امر ومنئ نو تاسی ته به لوئی ـ عزت او وقار دروبښی. یا دا مطلب چه تاسی د الله تعالیٰ په لوئی باندی ولی اعتقاد نه لرئ؟ او د هغه د عظمت او جلال ځنی ولی نه ویریږئ؟.

وَقَدْ خَلَقَكُمْ أَطْوَارًا ﴿۱۴﴾

او (حال دا دی چه) په تحقیق پیدا کړی ئی یئ تاسی راز راز (قسم قسم).

**تفسیر:** یعنی د مور په ګیډه کښی مو ډول ډول (قسم قسم) رنګونه بدل کړل او د اصلی مادی څخه اخیستی تر مرینی پوری سری په راز راز (قسم قسم) بنو (صورتونو) او رنګارنګ اشکالو اوړی رااوړی! او له ډیرو اطوارو ادوارو سره مخامخ کیږی.

أَلَمْ تَرَوْا كَيْفَ خَلَقَ اللَّهُ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ طِبَاقًا ﴿١٥﴾
وَجَعَلَ الْقَمَرَ فِيهِنَّ نُورًا وَجَعَلَ الشَّمْسَ سِرَاجًا ﴿١٦﴾

آیا نه گورئ تاسی څرنګه پیدا کړی دی الله اووه آسمانونه لاندی باندی (یعنی یو د بل د پاسه) او ګرځولی ئی ده سپوږمی په دی آسمانونو کښی رڼا (رنړا) روښانه او ګرځولی ئی دی لمر ډیوه بله روښانه.

**تفسیر:** د لمر رڼا (رنړا) ته چه تیزه او توده وی او د راتګ په سبب ئی د شپی تیاره ورکیږی ښائی ځکه ئی په بله ډیوه سره مشابه او ورته کړه ـ او د سپوږمی رڼا (رنړا) ته ښائی ځکه په رڼا (رنړا) سره تعبیر وفرمایه چه د هغه روښانی ډیوی د نور اغیزه (اثر) او انتشارات وګڼل شی چه د قمر د جرم په واسطه سره او تته سرد ـ کم نور کیږی والله اعلم.

وَاللَّهُ أَنْبَتَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ نَبَاتًا ﴿١٧﴾

او الله زرغون پیدا کړی یئ تاسی (یعنی پیدا کړی ئی دی پلار ستاسی) له ځمکی څخنی زرغونیده پیدا کیده.

**تفسیر:** یعنی له ځمکی څخه ئی په ډیر پوخوالی سره پیدا کړ. اول ئی ځمونږ پلار حضرت آدم علیه السلام له خاوری څخه پیدا کړ. بیا ئی نطفه چه له هغه څخه ووړکی پیدا کیږی او د غذا او د خوړو خلاصه او جوهر دی او د ځمکی له عناصرو څخنی پیدا کیږی.

ثُمَّ يُعِيدُكُمْ فِيهَا وَيُخْرِجُكُمْ إِخْرَاجًا ﴿١٨﴾

بیا به ننباسی تاسی (پس له مرګه) په هغی (ځمکی) کښی بیا به راوباسی تاسی (له قبورو څخه عندالبعث) رایستل

**تفسیر:** یعنی وروسته له مرینی څخه بیا له خاوری سره ګډیږی. بیا د قیامت په ورځ له هغه څخنی راخیژی.

وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ بِسَاطًا ﴿١٩﴾ لِتَسْلُكُوا مِنْهَا سُبُلًا فِجَاجًا ﴿٢٠﴾

او الله گرځولی ده تاسی ته ځمکه غوړولی فرش تر څو چه لاړ شئ تاسی له دغی (ځمکی) نه پر لارو لويو ارتو باندی.

**تفسير:** يعنی پر هغه باندی کينئ ـ گرځئ ـ لاندی ـ باندی ورشئ او اوده شئ په هر لوری ئی ارتی لاری درايستلی دی. که يو سری وغواړی او لازم وسائل ورسره وی نو په توله ځمکه باندی چورليدی شی او د لاری د نشتوالی لامله (له وجی) به هيڅ يو مشکلات نه ورپيښيږی.

قَالَ نُوحٌ رَّبِّ إِنَّهُمْ عَصَوْنِي وَاتَّبَعُوا مَن لَّمْ يَزِدْهُ مَالُهُ وَوَلَدُهُ إِلَّا خَسَارًا ﴿٢١﴾

وويل نوح ای ربه ځما بيشکه دوی نافرمانی وکړه له ما څخه او متابعت ئی وکړ د هغه چا چه نه ئی دی زيات کړی ده ته مال د ده او اولاد د ده (په هيڅ بابت کښی) پرته (علاوه) له زيانکاری گمراهی.

**تفسير:** يعنی د خپلو مشرانو خبری ئی واوريدی چه د هغوی په مال او اولاد کښی هيڅ يو ښه والی او بهتری نشته. بلکه دوی پر هغوی باندی ورغوند شول او د هم دی لامله (له وجی) هم مشران له دين څخنی بی برخی شول او هم ئی د ډير تمرد او تجبر په سبب کشران محروم کړل.

وَمَكَرُوا مَكْرًا كُبَّارًا ﴿٢٢﴾

او مکر وکړ دغو (رؤساؤ د دوی) مکر ډير لوی.

**تفسير:** يعنی گرد ئی وپوهول چه د هغه خبره ونه منی او راز راز (قسم قسم) تکليفونه ور ورسوی.

وَقَالُوا لَا تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ

او وويل (مشرانو کشرانو ته) چه مه پريږدی تاسی (عبادت د) معبودانو خپلو

**تفسير:** يعنی د خپلو معبوادنو په عبادت او حمايت باندی تينگ اوسئ! او د نوح په لمسون

باندی مه غولیږئ! وایه شی چه تر سلهاؤ کلونو پوری هر یوه خپلو ځامنو لمسیو او کړوسیو ته ئی وصیت کاؤ چه ښائی هیڅوک د دی سپین ږیری نوح خبری وا نه وریځ! او پام کوئ چه تیر مو نه باسی او پخپل آبائی دین باندی تینګ اوسئ! چه له هغه څخه مو ونه ښویوی!.

وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَّلَا سُوَاعًا ۙ وَّلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا ۚ ﴿٢٣﴾

او مه پریږدئ (عبادت د هغه بت چه) ود (نومیږی) او مه (پریږدئ عبادت د هغه بت چه) سواع (نومیږی) او مه (پریږدئ تاسی عبادت د هغو بتانو چه) یغوث او یعوق او نسر (نومیږی).

**تفسیر:** دا د هغو بتانو نومونه دی چه د هر مطلب دپاره ئی یو بیل بت جوړ کړی و. هم دا بتان بیا په عربو کښی جوړ شول او په هندوستان کښی هم داسی بتان د «بشنو» ـ «برهما» ـ «اندر» ـ «شیو» ـ «هنومان» او په نورو نومونو مشهور دی چه د هغوی مفصل تحقیق حضرت شاه عبدالعزیز رحمه الله په «تفسیر عزیزی» کښی کړی دی په ځینو نورو روایتونو کښی راغلی دی چه په پخوانیو زمانو کښی ځینی لویان هسی تیر شوی ؤ چه خلقو له هغوی سره ډیره مینه درلوده (لرله) کله چه هغوی مړه شول نو د شیطان په لمسولو او غولولو خلقو د هغوی تصویرونه د یادولو په ډول (طریقه) ودرول بیا ئی د هغوی په تعظیم باندی شروع وکړه ورو ورو ئی د هغوی په بندګی باندی شروع وکړه (العیاذ بالله)

وَقَدْ أَضَلُّوا كَثِيرًا ۚ وَلَا تَزِدِ الظَّالِمِينَ إِلَّا ضَلَالًا ﴿٢٤﴾

او په تحقیق ګمراه کړی دی (دغو مشرانو په سبب د عبادت د بتانو) ډیر (کثران خلق) او مه زیاتوه (ای ربه ځما) ظالمانو بی‌انصافانو لره مګر خو ګمراهی هلاک عذاب.

**تفسیر:** حضرت شاه عبد القادر رحمة الله علیه لیکی یعنی سرګردانه ګرځی یو سم تدبیر د دوی له لاسو نه دی پوره. حضرت شاه عبدالعزیز رحمة الله علیه لیکی چه «د استدراج په توګه (طور) هم هغوی له معرفت سره مه آشنا کوه!» او عامو مفسرینو ظاهری معنی اخیستی ده یعنی ای اله! د دی ظالمانو ګمراهی لا پسی ورزیاته کړه تر څو ئی د شقاوت کندول ژر ډک او ستا د عذاب مورد وګرځی. مفسرین لیکی چه نوح علیه السلام دا ښیرا هلته وفرمایله چه د هغوی له هدایت څخنی بیخی بی‌هیلی او نا امیده شو. که دا مأیوسی د زر کلنی تجربو په بناء ده یا د حق تعالیٰ په ارشاد دوی ته ورښکاره شوی ده لکه چه د «هود» د سورت په څلورمه رکوع ځمونږ دغه

تفسیر کښی راغلی دی. ﴿ أَنَّهُۥ لَن يُؤْمِنَ مِن قَوْمِكَ إِلَّا مَنْ قَدْ ءَامَنَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوا۟ يَفْعَلُونَ ﴾
په هر حال د داسی مایوسی په وقت کښی د قهر او غضب لامله (له وجی) هسی ښیرا کول مستبعد نه دی. حضرت شاه عبدالعزیز رحمه الله لیکی «کله چه د کوم سړی یا جماعت د سمی لاری له راتللو ځنی بیخی بی هیلی توب (ناامیدی) او مأیوسی ولیده شی او پیغمبر د هغوی د استعداد په پوره ډول (طریقه) سره تحقیق وکړی او ځان پری په ښه شان سره خبر کړی ـ او بیا ورښکاره شی چه خیر د نفوذ گنجائش په هغوی کښی مطلق نشته. بلکه د هغه وجود لکه یو فاسده عضو داسی دی چه په یقین سره نور اعضاء هم فاسد، مسموم او خرابوی نو په داسی وقت کښی د هغه د پری کولو او د هستی د صفحی ځنی د محو کولو ځنی سوا بل کوم علاج نه لیدل کیږی. که د قتال حکم وی نو د قتال په وسیله دی هغوی فناء کړل شی او د دوی قوت دی مات کړ شی تر څو د هغه بد اثر متعدی نشی او نورو ته سرایت ونه کړی. که نه وروستنی صورت ئی هم دا دی چه له الله تعالیٰ څخه داسی غوښتنه وکړه شی چه د هغه وجود له دنیا څخه واخله! او د هغه د وژونکیو جراثیمو ځنی نور وساته! چه لکه پخپله پاک قرآن فرمائی ﴿ إِنَّكَ إِن تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا۟ عِبَادَكَ ﴾ الآیة ـ　په هر حال د نوح علیه السلام دا ښیرا او د موسیٰ علیه السلام هغه ښیرا چه د یونس علیه السلام په سورت کښی تیره شوه له هم دی قبیلی څخه ده . والله اعلم.

## مِّمَّا خَطِيٓـَٔـٰتِهِمْ أُغْرِقُوا۟ فَأُدْخِلُوا۟ نَارًا

په سبب د گناهونو خپلو سره ډوب کړل شول (په دنیا کښی په ډیرو دریابی اوبو کښی) نو داخل به کړل شی (آخروی) اور ته .

**تفسیر:** یعنی څپان (طوفان) راغی او په ښکاره ډول (طریقه) د لوی بحر په اوبو کښی ډوب شول خو په رښتیا سره د برزخ عذابونو ته ورسیدل چه ورپسی متصل د آخرت اور هم هغوی ته تیار دی.

## فَلَمْ يَجِدُوا۟ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ أَنصَارًا ﴿٢٥﴾

بیا نه موندل دوی د خپلو ځانونو لپاره پرته (علاوه) له الله مددگاران (چه له عذاب څخه ئی خلاص کړی).

**تفسیر:** یعنی هغه بتان ود ـ سواع ـ یغوث او نور د دوی د دی اړتوب (مجبورئ) په وقت کښی هیڅ په کار ورنغلل او نه ئی مرسته (مدد) له هغوی سره وکړه او هم داسی بی له پوښتنی او بی

له پالنې په بد وضعيت سره مړه شول او د خولې خبره ئې په خوله او د زړه خبره ئې په زړه کښې پاتې شوه.

وَقَالَ نُوحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكٰفِرِينَ دَيَّارًا ﴿۲۶﴾ إِنَّكَ إِن تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوا إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا ﴿۲۷﴾

او وويل نوح اى ربه ځما مه پرېږده! پر ځمكه باندې له كافرانو څخه هيڅ اوسيدونكى (يا ګرځيدونكى او ټول هلاک كړه) بېشكه ته كه چيرې پرېږدې ته دوى نو ګمراهان به كړي دوى (مؤمنان) بندګان ستا او نه ځيږوي دوى مګر خو فاجر بيباكه ناشكره بدكاره له حقه منكره.

**تفسير:** يعني يو كافر هم ژوندى مه پرېږده! ځكه چه له دوى ځني هيڅ يو كافر د دې خبرې لايق او وړ (قابل) نه دى چه ژوندى پرېښود شي. كه له دوى ځني كوم يو ژوندى پاتې شي نو ځما تجربه دا راښيي چه د هغه له نطفې څخه به هم بې‌حيا بيباک د حق منكر او بې شرم او ناشكره ځوځات (ذريه) پيدا كيږي او تر هغه پورې چه له دوى ځني يو سړى هم پاتې وي نور خلق نه پرېږدي چه په سمه لاره راشي او ګرد (ټول) به سره ګمراهان كړي.

رَبِّ اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِمَن دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ط

اى ربه ځما وبښه ما او مور پلار ځما او هغه څوک چه ننوځي كور بيرې مسجد ځما ته حال دا چه ايمان لرونكى وي او (وبښه) ګرد (ټول) ايمان لرونكي نارينه او ګردې (ټولې) ايمان لرونكي ښځې.

**تفسير:** يعني كه سم ځما د مرتبې سره له ما نه كوم تقصير شوى وي هغه پخپل فضل او كرم سره راوبښه! او ځما د مور او پلار او هغه ايمانداران چه ځما په كور يا بيړې ـ يا مسجد كښې دي د هغوى ګردې (ټولې) خطاوې ورمعاف كړه! بلكه تر قيامت پورې هرڅومره نارينه او ښځې چه د ايمان په شرف رسيدلي وي هغوى ګرد (ټول) وبښه! اى اله! د نوح عليه السلام د دعا په بركت دا عاصي او خاطي بنده هم پخپل رحمت او كرم سره وبښې! او بې له دنيوي او آخروي

تعذیب ئی د خپلی رضاء او کرامت محل ور په برخه کړی! «**انک سمیع قریب مجیب الدعوات**» .

وَلَا تَزِدِ الظّٰلِمِينَ إِلَّا تَبَارًا ﴿۲۸﴾

او مه زیاتوه (ای ځما پروردګاره) ظالمانو (کافرانو) لره مګر خو بربادی هلاک (لکه چه هغوی هلاک شول).

**تمت سورة نوح بفضل الله وکرمه فلله الحمد والمنة**

سورة الجن مکیة وهی ثمان وعشرون آیة و فیها رکوعان رقمها (۷۲) تسلسلهاحسب النزول (٤٠) نزلت بعد سورة «الاعراف».

د «الجن» سورت مکی دی (۲۸) آیته (۲) رکوع لری په تلاوت کښی (۷۲) او په نزول کښی (٤٠)

سورت دی وروسته د «الاعراف» له سورته نازل شوی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ ○

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ

ووایه (ای محمده دوی ته) وحی راغلی ماته چه بیشکه شان دا چه واوریده (قرأت ځما) یوه تولی له پیریانو نه.

**تفسیر:** د جناتو او د پیریانو په وجود او حقیقت باندی حضرت شاه عبدالعزیز رحمة الله علیه پخپل تفسیر کښی په هم دی سورت کښی یو مبسوط او مفصل بحث کړی دی. او په عربی ژبه کښی یو کتاب دی چه «**آکام المرجان فی احکام الجان**» نومیږی په دی کتاب کښی هم په دی موضوع باندی نهایت جامع خبری شوی دی که د چا مینه وی هغه دی وګوری. دلته د داسی خبری د لیکلو ځای نشته.

فَقَالُوا إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا ۝ يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ ۖ وَلَن نُّشْرِكَ بِرَبِّنَا أَحَدًا ۝٢

نو وویل (دوی نورو قومونو خپلو ته کله چه بیرته ورغلل چه) بیشکه مونږ وامو وریدو یو قرآن عجیب (په فصاحت او بلاغت سره) چه هدایت کوی لاره ښیی رشد (ایمان او حق) ته نو ایمان راووړ مونږ پر هغه (قرآن) او هرگز به شریک نه کړو (پس له دی ورځی) له رب خپل سره بل هیڅوک.

**تفسیر:** د «**احقاف**» په سورت کښی تیر شوی دی چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د سهار په لمانځه کښی قرآن کریم لوست چه یوه ډله پیریان له هغه ځایه تیریدل ـ کله چه د قرآن مجید غږ ئی واورید ـ تول په هغه باندی مین او د زړه له کومی مسلمانان شول ـ بیا خپلو تبرو ته بیرته لاړل ـ او دا گردی (تولی) خبری ئی هلته وویلی چه مونږ داسی یو کلام واورید چه پخپل فصاحت ، بلاغت ـ حسن الاسلوب ـ قوت تأثیر ـ خوږ والی ـ موعظت ـ علومو او مضامینو او پندونو په اعتبار ډیر عجیب او غریب دی. د معرفت ربانی او رشد دنیوی او فلاح آخروی په لوری لار ښیی ـ او د خیر د طالب لاس اخلی ـ او د نیکی او د تقویٰ په خوا ئی بیائی ـ نو ځکه په مجرد د آوریدلو بلاتوقف پر هغه مو یقین وکړ. او هیڅ یو شک او شبهه ځمونږ په زړونو کښی پاتی نشوه چه داسی خبری پرته (علاوه) د الله تعالیٰ د بل چا نه دی. اوس مونږ سم د هغه له تعلیم او هدایت سره عهد کوو چه وروسته له دی نه مونږ هیڅ یو شی د الله شریک نه گنو. د دوی دا تولی خبری د الله تعالیٰ له لوری په رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د وحی په ډول (طریقه) ورنازلی شوی ـ وروسته له دی نه بیا څو ځلی د پیریانو جرگی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخ کښی حاضریدی ـ او د ایمان په شرف مشرفیدی ـ او قرآن کریم به ئی یادولو.

وَأَنَّهُ تَعَالَىٰ جَدُّ رَبِّنَا مَا اتَّخَذَ صَاحِبَةً وَلَا وَلَدًا ۝٣

او بیشکه شان دا دی چه لوی دی شان لوئی د رب ځمونږ نه ده نیولی (الله) ښځه او نه اولاد (لکه چه وائی د پیریانو او د انسانانو کفار او مشرکان).

**تفسیر:** یعنی ښځه او اولاد لرل د الله تعالیٰ له شان او عظمت څخه منافی دی حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «چه هغه گمراهی او خرابی چه په انسانانو کښی ده هغه توله په پیریانو کښی هم ده. هغوی هم د عیسایانو په شان الله ته ښځه او ځامن جوړول.

وَّاَنَّهٗ كَانَ يَقُوْلُ سَفِيْهُنَا عَلَى اللّٰهِ شَطَطًا ﴿۴﴾

او (وويل پيريانو قوم خپل ته داسې) بيشکه شان دا دی چه ويل به ناپوه ځمونږ (ابليس) پر الله باندې خبرې لوئې لرې له حق صواب

**تفسير:** يعنې ځمونږ په منځ کښې هغه بې‌وقوفان چه د الله تعالیٰ په نسبت داسې چټې (بيکاره) خبرې له خپل ځانه جوړوې او لوئې ئې کړې وې د هغوی په منځ کښې له ګردو (تولو) څخه لوی ناپوه ابليس دی. ښائې خاص هم دغه شيطان د (د سفيه) له لفظ څخه مراد وی.

وَّاَنَّا ظَنَنَّآ اَنْ لَّنْ تَقُوْلَ الْاِنْسُ وَالْجِنُّ عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ﴿۵﴾

او بيشکه مونږ ګمان کاوه چه هيڅکله به نه وائې انسانان او پيريان پر الله باندې دروغ.

**تفسير:** يعنې ځمونږ په خيال کښې داسې راتلل چه دومره زيات انسانان او پيريان چه په دوی کښې لوی سړی او پوهان هم شته څرنګه سره يو ځای شوی د الله تعالیٰ په نسبت دروغ خبرې جوړوی او داسې جرأتونه کوی په هم دی چرت (خيال) کښې مونږ لاره غلطه کړه. اوس د پاک قرآن له اوريدلو څخه هغه ګردی (تولی) غلطې خبرې او دروغ راښکاره شوی او د خپلو مشرانو د بې‌لزوم تقليد څخه مو ځانونو وژغورل (وساتل).

وَّاَنَّهٗ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ الْاِنْسِ يَعُوْذُوْنَ بِرِجَالٍ مِّنَ الْجِنِّ فَزَادُوْهُمْ رَهَقًا ﴿۶﴾

او بيشکه شان دا دی چه ؤ به ډير سړی له انسانانو څخه چه پناه به ئې غوښتله په سړيو له پيريانو څخه نو زياته کړه دغو انسانانو دغو پيريانو لره سرکشې (په سبب د استعاذی پناه غوښتو د دوی له جناتو نه)

**تفسير:** په عربو کښې جهالت ډير و ـ له پيريانو ځنې به ئې د پټو خبرو پوښتنې کولې او د هغوی په نامه به ئې نذرونه په غاړه اخيستل او ورکول به ئې. کله به چه د کومې جوپې (قافلې) پړاو يا د تيريدلو لاره پر کومې ويروونکې کندې يا ځای باندې لويده ويل به ئې چه مونږ د دې ځای د پيريانو د هغه مشر په حلقه کښې ننوځو او ننګ ورورو چه د دې سيمې د پيريانو سردار

دی. تر څو مو هغه د خپل لاس لاندی د پیریانو له شره وساتی. له داسی خبری به پیریان لا مغروریدل او په سر به ئی ختل. او له بل لوری د داسی شرک لامله (له وجی) د انسانانو عصیان او طغیان لا پسی زیاتیده کله چه دوی پخپله پر خپلو ځانونو باندی پیریان مسلطول نو هغوی به هم د هغوی په اغواء کښی هیڅ لږ والی نه کاو. په پای (آخر) کښی پاک قرآن د دی ګردو (تولو) خرابیو بیخ وویست.

وَّاَنَّهُمْ ظَنُّوْا كَمَا ظَنَنْتُمْ اَنْ لَّنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ اَحَدًا ۙ

او بیشکه دوی ګمان کړی دی لکه چه ګمان کړی دی تاسی چه هرګز به پورته نه کړی الله هیڅوک (پس له مرګه له قبره).

**تفسیر:** مسلمانان پیریان دا ګردی (تولی) خبری له خپلو قومونو سره کوی. یعنی لکه چه تاسی خیال کوئ د ډیرو سریو خیال هم داسی دی چه الله تعالٰی به مری هیڅ کله له هدیرو څخه نه پورته کوی. یا به وروسته له دی نه بل کوم پیغمبر نه مبعوثوی هغه پیغمبران چه پخوا له دی نه مبعوث شوی دی اوس له قرآنه رابښکاری چه الله تعالٰی یو عظیم الشان رسول رالیږلی چه ګردو (تولو) خلقو ته دا ور په یادوی چه تاسی تول له مرینی څخه وروسته بیا ژوندی کیږئ او د ذری ذری حساب به ورکوی!.

وَّاَنَّا لَمَسْنَا السَّمَآءَ فَوَجَدْنٰهَا مُلِئَتْ حَرَسًا شَدِيْدًا وَّشُهُبًا ۙ﴿۸﴾ وَّاَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَاعِدَ لِلسَّمْعِ ۖ فَمَنْ يَّسْتَمِعِ الْاٰنَ يَجِدْ لَهٗ شِهَابًا رَّصَدًا ۙ﴿۹﴾

بیشکه مونږ ورسیدو آسمان ته (لپاره د غوږ نیوو خبرو د ملائکو ته) نو ومو موندو هغه (آسمان) ډک کړی شوی له څوکیدارانو سختو (چه ملائکی دی) او له ستوریو سوځوونکیو څخه او بیشکه وو مونږ چه کیناستلو پخوا له لیږلو د دی پیغمبر له دی آسمانه په ځایونو د کیناستلو کښی دپاره د اوریدلو نو هغه څوک چه اوریدل غواړی اوس مومی به دپاره د ځان د اور لمبه منتظره (چه سوځوی ئی).

**تفسیر:** یعنی مونږ الوتلی نژدی آسمان ته ورسیدو نو هلته مو ولیدی چه ډیری سختی جنګی

پیری دریدلی دی چه هیڅ یو شیطان نه پریږدی چه غیبی خبری واوری او هر هغه شیطان چه داسی اراده ولری پر هغی باندی د اور لمبه او انګار وریږی. پخوا له دی نه دومره سختی او ساتنه او مخ نیونه نه وه پیریان او شیطانان به آسمان ته نژدی په پټ ځای کښی کیناستل او د یوه لوری او بل لوری څخه به ئی څه خبری اوریدلی مګر اوس دومره سختی او انتظام او لار نیونه شته چه هر څوک د اوریدلو خیال وکړی سم د لاسه پری شهاب ثاقب د اورونو ډک مردک (ګولۍ) اوری او د هغوی تعاقب کیږی. دا بحث پخوا له دی نه د حجر په سورت او نورو ځایونو کښی تیر شوی دی هلته دی وکتل شی!

وَّاَنَّا لَا نَدۡرِیۡۤ اَشَرٌّ اُرِیۡدَ بِمَنۡ فِی الۡاَرۡضِ اَمۡ اَرَادَ بِہِمۡ رَبُّہُمۡ رَشَدًا ﴿۱۰﴾

او بیشکه مونږ نه پوهیږو (چه دغه منع کیدل ځمونږ له آسمانه) آیا شر بد دی چه اراده کړی شوی ده په هغه چا باندی چه په ځمکه کښی دی یا اراده کړی ده په دوی باندی رب د دوی د رشد د لار ښوونی.

**تفسیر:** یعنی دا نوی انتظامات او د لارو تینګونه الله تعالیٰ ته ښه معلومه ده چه ولی شوی دی؟ په دی خو مونږ پوهیدلی یو چه د قرآن کریم نزول او د عربی محمد صلی الله علیه وسلم بعثت د هغه سبب دی. ولی آیا د هغه نتیجه به څه کیږی؟ آیا د ځمکی هستیدونکی دا پاک قرآن منی او د هغه په ښوونی باندی عمل کوی؟ او الله تعالیٰ به پر دوی باندی خپل خصوصی الطاف مبذول فرمائی؟ یا ئی په دی باندی اراده تاکلی (مقرر) شوی ده چه خلق د قرآنی هدایاتو د مخ اړولو په بدل باندی تباه او بربادوی. د دی علم تول د هغه علام الغیوب سره دی بل هیڅوک په دغه مورد کښی هیڅ نشی ویلی.

وَّاَنَّا مِنَّا الصّٰلِحُوۡنَ وَمِنَّا دُوۡنَ ذٰلِکَ ؕ کُنَّا طَرَآئِقَ قِدَدًا ﴿۱۱﴾

او بیشکه مونږ چه یو ځینی له مونږ څخه نیکان دی (پس له اوریدلو د قرآن) او ځینی له مونږ غیر له دوی دی وو مونږ ناست پر لارو مختلفو (د ادیانو).

**تفسیر:** یعنی د قرآن مجید له نزول څخه پخوا هم ګرد (تول) پیریان په یوه لاره نه تله. ځینی ئی ښه او ښائسته ؤ او ډیر ئی بدکار او بدرنګ ؤ. په هغوی کښی هم فرقی او جماعتونه دی. ځینی مشرکان ـ ځینی عیسایان ځینی یهودان او نور دی او په عملی ډول (طریقه) باندی د هر

یوه د عمل لاری بیلی او فکر ـ عقیده جلا (جدا) ده وروسته له هغه چه قرآن کریم راغی د هغه ښونه د اختلافاتو او تفرقو لری کول دی زیاتره پیریان مسلمانان شول او ځینی همغسی پاتی دی ځکه چه داسی خلق چیری پیدا کیږی چه تول د حق په منلو کښی لاسونه سره یو کړی او په یوه سمه لاره باندی لاړ شی نو هرومرو (خامخا) اوس هم د هغوی په منځ کښی اختلاف او جګړه شته!.

وَّاَنَّا ظَنَنَّآ اَنْ لَّنْ نُّعْجِزَ اللّٰهَ فِی الْاَرْضِ وَلَنْ نُّعْجِزَهٗ هَرَبًا ﴿۱۲﴾

او بیشکه مونږ یقین مو کاؤ چه له سره به مونږ عاجز نه کړو الله په ځمکه کښی (چه تری پټ او خلاص شو) او له سره به نه عاجز کوو مونږ دغه (الله) په تیښتی سره (که تری وتښتو).

**تفسیر:** یعنی که مونږ قرآن ونه مانه د الله تعالیٰ له سزا ښخه نشو ځان ژغورلی (بچ کولی) نه په ځمکه کښی چیری تری پټیدی شو ـ نه دی خوا هغوی خوا چیری تری تښتیدلی یا په هوا کښی الوتلی شو.

وَّاَنَّا لَمَّا سَمِعْنَا الْهُدٰٓی اٰمَنَّا بِهٖ ؕ

او بیشکه مونږ کله چه واورید هدایت (د قرآن) نو ایمان راوړ مونږ پر هغه

**تفسیر:** یعنی مونږ لره د فخر موقع ده چه په پیریانو کښی له ګردو (تولو) ښخه پخوا مونږ قرآن واورید او بی له ډیله مو ومانه ـ او په ایمان راوړلو کښی مو یوه شیبه (لحظه) ځند (تاخیر) ونه کړ.

فَمَنْ یُّؤْمِنْ بِرَبِّهٖ فَلَا یَخَافُ بَخْسًا وَّلَا رَهَقًا ﴿۱۳﴾

نو هغه چه ایمان راوړی په رب خپل باندی نو نه ویریږی له نقصان (د خپلی نیکی) او نه له زیادت ښخه (په تزئید د بدی).

**تفسیر:** یعنی رښتین ایماندار لره د الله تعالیٰ له لوری هیڅ یوه اندیښنه نشته او نه نقصان وررسیږی نه ئی کومه نیکی او محنت خوشی ځی او نه بل ښوک پری ښه زیادت او زبردستی کولی شی چه د بل جرم او ګناه په هغه باندی ورواړوی لنده ئی دا چه ایمانداران له هر نقصان ـ

تکلیف ـ ذلت او رسوائی او نورو څخه مأمون او مصون دی.

وَّاَنَّا مِنَّا الْمُسْلِمُوْنَ وَمِنَّا الْقٰسِطُوْنَ ؕ فَمَنْ اَسْلَمَ فَاُولٰٓئِكَ تَحَرَّوْا رَشَدًا ﴿۱۴﴾ وَاَمَّا الْقٰسِطُوْنَ فَكَانُوْا لِجَهَنَّمَ حَطَبًا ﴿۱۵﴾

او بیشکه مونږ چه یو ځینی له مونږه مسلمانان دی او ځینی له مونږه ظالمان کاږه دی (له لاری د حقه په کفر سره) نو هر هغه چه (الله ته) غاړه کیږدی (او ایمان راوړی) نو دوی قصد کړی دی د سمی صافی لاری. او هر څه کږیدونکی له سمی لاری نو وی به دوی دوزخ لره لرګی د (سوځولو).

**تفسیر:** یعنی د قرآن له نزول څخه وروسته په مونږ کښی دوه ډوله (قسمه) خلق دی یو هغه چه د الله تعالیٰ پیغام اوری او د هغه د احکامو په مقابل کښی غاړه ږدی او مسلمانیږی دوی همغوی دی چه د حق په تلاش کښی بریالیان (کامیاب) شوی دی او د خپل تحقیق ـ تفحص او تعمق په وسیله سمی لاری ته رسیدلی دی. بل هغه د بی‌انصافانو ډله ده چه کږه لاره ئی خوښه کړی او د بی‌انصافی له لوری د خپل پروردګار احکام دروغ بولی او د هغه له حکم منلو څخه انحراف کوی دا هغه کسان دی چه هغوی ته د دوزخ دړی او د جهنم خس وایه شی.
**تنبیه:** تر دی ځای پوری د مسلمانانو پیریانو د هغه کلام نقل و چه هغوی خپل قوم ته کړی و وروسته له دی الله تعالیٰ د خپل لوری څخه د نصیحت څو خبری ارشاد فرمائی ګویا د ﴿ وَّاَنْ لَّوِ اسْتَقَامُوْا ﴾ عطف پر ﴿ اَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ ﴾ باندی شوی دی او محقق مترجم رحمة الله علیه په ترجمه کښی د «او بله وحی راغلی» الفاظ زیات کړی دا ئی راوښوود چه له دی ځایه تر آخره پوری د ﴿ قُلْ اُوْحِيَ اِلَيَّ ﴾ لاندی داخل دی.

وَّاَنْ لَّوِ اسْتَقَامُوْا عَلَى الطَّرِيْقَةِ لَاَسْقَيْنٰهُمْ مَّآءً غَدَقًا ﴿۱۶﴾ لِّنَفْتِنَهُمْ فِيْهِ ؕ

او (بله وحی راغلی ده ماته چه) که دا (خلق اهل د مکی) برابر شی پر طریقه (سمی لاری د اسلام) نو هرومرو (خامخا) به وڅښوو دوی ته اوبه ډیری (پس له قحطه) تر څو وازمویو مونږ دوی په دغه (نعمت) کښی.

**تفسیر:** یعنی که پیریان او انسانان په سمه لاره باندی تلل نو مونږ به هم د ایمان او اطاعت په ظاهری او باطنی خوږو او برکاتو سره دوی خړوبول او په هغه کښی به هغه هم د هغوی ازموینه مقصد وه چه د دی نعمتونو د ګټور (منتفع) کیدلو په وقت کښی دوی ځمونږ شکر ادا کوی او

په طاعت کښې به ترقي او زيادت ليده کيږي؟ يا په کفران د نعمت کښې اخته شوی هغه اصلي سرمايه او پنګه هم له لاسه وباسي؟ په ځينو رواياتو کښې راغلي دي چه په دې وقت کښې د مکيانو د ظلم او د شرارت لامله (له وجې) او د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم د ښيرا په وسيله څو کاله قحط (سوکړه) ولويده خلق له وچکالي څخه پريشان شوي ؤ نو ځکه ئې وفرمايله که ګرد (ټول) خلق له ظلم او شرارت څخه لاس وکاږي او ټول د الله تعالیٰ په سمه لاره تګ وکړي لکه چه مسلمانان پيريان هغه ځان ته غوره کړی دی نو دا قحط او سوکړه لرې کيږي او د رحمت له وريدو او باران څخه به ګرد (ټول) ملک خړوب او زرغونيږي او پر دوی به روزی فراخيږي.

---

وَمَن يُعْرِضْ عَن ذِكْرِ رَبِّهِۦ يَسْلُكْهُ عَذَابًا صَعَدًا ﴿١٧﴾

---

او هغه څوک چه مخ واړوي له ذکر (قرآن) د رب خپل نو داخل به ئې کړي (الله) عذاب سخت ته.

---

**تفسير:** يعني که سړی د الله تعالیٰ له ذکر او ياده مخ واړوي هغه ته به هيڅ دادينه (سکون) او خوشالي نه په برخه کيږي او تل به د هغه تګ په داسې يوه لاره باندې وي چه له پريشاني او ربړو (تکليفونو) څخه ډک وي او عذاب ئې ګړی په ګړی زيادت مومي.

---

وَأَنَّ ٱلْمَسَٰجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدْعُوا۟ مَعَ ٱللَّهِ أَحَدًا ﴿١٨﴾

---

او (بله وحي راغلي ده ماته) دا چه بيشکه مسجدونه (او د سجدې اعضاء) دپاره (د ياد) د الله دي نو مه بولئ تاسي (په دغو مساجدو کښې) سره له الله بل هيڅوک.

---

**تفسير:** اګر که الله تعالیٰ ګرده (ټوله) ځمکه د محمدي صلی الله عليه وسلم امت دپاره مسجد جوړه کړې ده ـ ليکن په خصوصيت سره هغه ځايونه چه د مسجدونو په نامه خاص د الله تعالیٰ د عبادت دپاره جوړ شوي دي هغه لره زيات امتياز دی هلته تللي پرته (علاوه) له الله تعالیٰ د بل چا بلل لوی ظلم او ډير بد شرک دی مطلب دا دی چه د خالص واحد الله په لوري راځئ!

او له هغه سره بل څوک مه شریکوئ او له هغه سره ئی مه بولئ! خصوصاً په مسجدونو کښې چه د الله تعالیٰ په نامه او یوائې د هغه د عبادت دپاره جوړ شوی دی. ځینو مفسرینو له «مساجد» څخه هغه اعضا مراد اخیستی دی چه د سجدی په وقت کښې پر ځمکه باندی ایښودل کیږی په دی وقت کښې به ئی مطلب داسی وی چه د الله تعالیٰ دا درکړی شوی او جوړ کړی اعضاء نه بنائی چه پرته (علاوه) د هغه خالق او مالک له عبادت څخه د بل چا په مخ کښې راښکته کړی شی.

وَّاَنَّهٗ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللّٰهِ

او بله (وحی کړی شوی ده ماته) دا چه بیشکه کله چه ودرید (لمانځه ته) بنده د الله (محمد).

**تفسیر:** یعنی کامل بنده حضرت محمد رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه وعلیٰ آله واصحابه وسلم.

يَدْعُوْهُ كَادُوْا يَكُوْنُوْنَ عَلَيْهِ لِبَدًا ⑲

چه باله ئی دغه (الله) نژدی ؤ دغه (پیریان) چه کیدل به پر ده باندی سر په سر پریوتونکی (له جهته د ازدحامه)

**تفسیر:** یعنی کله چه محمد صلی الله علیه وسلم ودریږی او پاک قرآن لولی نو خلق دلی دلی په ګڼ دول (طریقه) پر دوی باندی توئیږی. مؤمنانو د شوق ـ د مینی او رغبت لامله (له وجی) قرآن اوریده او کافرانو او منافقانو د عناد او عداوت په سبب پر دوی باندی هجوم کاوه. ځینی مفسرین د دی آیت دغسی ترجمه کوی! او بله وحی شوی ده ماته چه په تحقیق سره کله چه پورته شو لمانځه ته په بطن نخله کښې بنده د الله محمد صلی الله علیه وسلم چه باله ئی الله او عبادت ورته کاوه او قرآن ئی لوست او پیریانو قرائت د ده واوریده نو نژدی ؤ دوی چه کیدل به په ده باندی پریوتونکی له جهته د ډیر شوقه او د ازدحامه. کله چه کفار د مکی حضرت ته وویل چه عجیبه کار دی نیولی دی پریږده او را وګرځه تری چه مونږ ستا مددګاری او ملګرتیا کوو نو د الله تعالیٰ اکرم شانه واعظم برهانه له جانبه دغه آیت نازل شو.

قُلْ اِنَّمَآ اَدْعُوْا رَبِّيْ وَلَآ اُشْرِكُ بِهٖٓ اَحَدًا ⑳

ووایه (ای محمده دوی ته) په تحقیق زه بولم (عبادت کوم د) رب خپل او

شریک نه نیسم له دغه (الله) سره هیڅوک.

**تفسیر:** یعنی کافرانو ته ووایه چه تاسی د مخالفت په لاره کښې دومره هجوم او بیړه (تلوار) ولی کوئ کومه خبره داسی ده چه په هغی باندی تاسی خفه یی زه کومه خرابه او نامعقوله خبره نه کوم ـ زه خو یوائې خپل رب بولم او هیڅوک د هغه شریک نه گنم ـ نو په دی کښې د جنگ او جگړی سبب څه شی دی؟ که تاسی گرد (تول) هجوم راباندی کوئ نو په یاد ئی ولرئ چه ځما توکل یوائې پر هغه الله باندی دی چه له هر راز (قسم) شرک څخه پاک او بی نیاز دی

قُلْ إِنِّي لَآ أَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلَا رَشَدًا ﴿٢١﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) بیشکه زه مالک نه یم نه توانیږم تاسی لره د څه ضرر (گمراهی) او نه د څه رشد خیر رسولو (ځکه چه پخپله الله هم ضار او هم نافع دی)

**تفسیر:** یعنی دا ځما په اختیار کښې نه ده چه تاسی په سمه صافه لاره راولم. او که رانشئ تاسی ته کوم ضرر او نقصان دررسوم. گردی (تولی) ښیگڼی (خوبئ) او خرابی هدایت او ضلالت د الله تعالیٰ په واک (اختیار) کښې دی.

قُلْ إِنِّي لَن يُجِيرَنِي مِنَ اللَّهِ أَحَدٌ ۙ وَلَنْ أَجِدَ مِن دُونِهِ مُلْتَحَدًا ۙ ﴿٢٢﴾

ووایه (ای محمده ! دوی ته) بیشکه زه چه یم هرگز به می خلاص نه کړی له (عذابه) د الله (که چیری می په عذاب کړی) هیڅوک او له سره به بیا نه مومم بی له دغه (الله) څخه ځای د پناهی

**تفسیر:** یعنی تاسی ته ځما گټه (فائده) رسول چیری ځما خپله گټه (فائده) او زیان هم ځما په قبضه او واک (اختیار) او لاس کښې نه دی. که بالفرض زه پخپلو فرائضو کښې څه سستی او تقصیر وکړم نو هیڅوک می د الله تعالیٰ له عذابه نشی ژغورلی (بچ کولی) او هیڅ یو ځای هم داسی نشته چه هلته وتښتم او پناه حاصله کړم.

إِلَّا بَلَٰغًا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِسَٰلَٰتِهِۦ

مگر خو (مالک یم د) تبلیغ (د شریعت تاسو ته) له (طرفه د) الله او (تبلیغ د) رسالت د دغه (الله).

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ له لوری پیغام راوړل ـ او هغو بندګانو ته رسول هم دا یو شی دی چه ځما په اختیار کښی دی. او هم دا فرض دی چه د هغه د اداء کولو لامله (له وجی) زه د الله تعالیٰ په پناه او حمایت کښی پاتی کیدی شم.

وَمَن يَعْصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَإِنَّ لَهُۥ نَارَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ﴿٢٣﴾

او هر هغه څوک چه نافرمانی کوی د الله او د رسول صلی الله علیه وسلم د دغه (الله) نو بیشکه هغه لره دی اور د دوزخ حال دا چه تل به وی په هغه کښی همیشه (چه نه به خلاصیږی تری هیچیری).

**تفسیر:** یعنی زه د تاسی د ګټی او د زیان مالک نه یم. خو دومره تاسی ته وایم چه د الله تعالیٰ او ځما د خبرو د نه منلو په سبب تاسی ته ضرور زیان رسیږی. مشرکان ضعیف ګڼی محمد او نور مسلمانان.

حَتَّىٰٓ إِذَا رَأَوْا۟ مَا يُوعَدُونَ فَسَيَعْلَمُونَ مَنْ أَضْعَفُ نَاصِرًا وَأَقَلُّ عَدَدًا ﴿٢٤﴾

تر هغه پوری چه ووینی دوی هغه (عذاب) چه وعده ئی ورسره شوی ده نو ژر به پوه شی دوی (په وقت د تعذیب کښی چه) څوک دی ډیر ضعیف له جهته د مددګاره او ډیر لږ له پلوه د شمیره (آیا مؤمنان دی که کافران بلکه کافران دی)

**تفسیر:** یعنی تاسی چه سره راغونډیږی. او پر مونږ باندی هجوم راوړی. او داسی ګڼئ چه د محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه د ملګریو قوت او شمیر لږ دی او ورسره ضعیفان او کمزوران هم دی. نو کله چه د وعدی وقت راشی هلته به درښکاره شی چه د چا ملګری کمزوری او شمیر ئی لږ ؤ؟ وویل بعض کافرانو چه دا وعده به څه وقت وی؟ نو الله فرمائی:

قُلۡ اِنۡ اَدۡرِیۡۤ اَقَرِیۡبٌ مَّا تُوۡعَدُوۡنَ اَمۡ یَجۡعَلُ لَهٗ رَبِّیۡۤ اَمَدًا ﴿۲۵﴾

ووایه (ای محمده دوی ته) نه پوهیږم چه آیا نزدی دی هغه (عذاب) چه وعده ئی درسره کړی شوی ده او که ئی مقرره کړی ده ده لره رب ځما یوه زمانه لری. (بلکه خامخا به په عذاب کړی شئ تاسو لیکن زه نه پوهیږم چه آیا دا به فی‌الحال وی او که وروسته له دی نه واقع کیږی ژر به وی یا به په ډیل سره؟)

**تفسیر:** یعنی د دی خبری علم ماته نه دی راکړی شوی چه هغه وعده ژر راتلونکی ده؟ که څو مدت څخه وروسته؟ ځکه چه د قیامت وقت الله تعالیٰ نه دی تاکلی (مقرر کړی) او نه ئی چاته ورښکاره کړی دی. دا له هغو پټو خبرو څخه دی چه پرته (علاوه) له الله تعالیٰ څخنی بل هیڅوک په هغی باندی نه دی خبر.

عٰلِمُ الۡغَیۡبِ فَلَا یُظۡهِرُ عَلٰی غَیۡبِهٖۤ اَحَدًا ﴿۲۶﴾ اِلَّا مَنِ ارۡتَضٰی مِنۡ رَّسُوۡلٍ فَاِنَّهٗ یَسۡلُکُ مِنۡۢ بَیۡنِ یَدَیۡهِ وَ مِنۡ خَلۡفِهٖ رَصَدًا ﴿۲۷﴾

(الله) عالم دی پر غائبو (اشیاؤ) باندی نو نه خبروی په غیبو خپلو باندی هیڅوک مگر هغه څوک چه راضی وی تری (او غوره کړی ئی وی په اطلاع د غیبیاتو) له رسول خپل څخه نو بیشکه هغه (الله) روانوی په مخ د هغه (رسول محمد) کښی او وروسته له هغه څخنی ساتونکی څوکیداران له هر طرفه (له ملائکو).

**تفسیر:** یعنی د خپلو پټو خبرو احوال هیچا ته نه ورکوی. هو! پیغمبرانو ته په همغه اندازه چه د هغو له شان او منصب سره لایق او وړ (قابل) وی د وحی په وسیله خبر ورکوی. له دی سره د پرښتی پیری او څوکۍ هم وی تر څو ئی کوم شیطان وانه وری او څه مداخله پکښی ونه کړی. او د رسول صلی الله علیه وسلم نفس هم په هغه باندی په ښه ډول (طریقه) سره ورپوهیږی د دی خبری هم دا معنی ده چه پیغمبرانو ته په علومو او اخبارو کښی هسی یو عصمت حاصل دی چه نور ئی نه لری. د انبیاؤ په معلوماتو کښی د شک او شبهی اندیښنه هیڅ نشته او د نورو په معلوماتو کښی د څو څو ډولو (طریقو) احتمالاتو اندیښنی کیږی نو ځکه د صوفیه ؤ محققینو فرمایلی دی چه ولیان دی خپل کشف قرآن او سنت ته ور وړاندی کړی او ودی گوری که له هغه څخنی

چپ (خلاف) نه وی نو غنیمت دی وګنی که نه بلا تکلف دی رد کړی!.
**تنبیه:** د دی آیت نظیر د «آل عمران» په سورت ۱۷۹ آیت کښی هم داسی راغلی دی ﴿وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَجْتَبِىْ مِنْ رُّسُلِهٖ مَنْ يَّشَآءُ﴾ او په نورو سورتونو کښی هم د غیب مسئله بیان شوی ده چه په هر یوه باندی د هغه مفصل کلام د هغه په تفاسیرو کښی لیکلی شوی دی نو هلته دی وکتلی شی!. او دغه انضباط ځکه شوی دی:

# لِّيَعْلَمَ اَنْ قَدْ اَبْلَغُوْا رِسٰلٰتِ رَبِّهِمْ

تر څو چه پوه شی (رسول یا الله په علم ظهور سره) په دی چه بیشکه پوره رسولی دی (جبریل او نورو پرښتو ملګرو د هغه یا رسولانو) پیغامونه د رب خپل(بی له نقصانه او تزئیده).

**تفسیر:** یعنی ځکه زبردست انتظامات کاوه شی چه الله تعالیٰ دا راښکاره کړی چه پرښتی پیغمبرانو ته ـ او پیغمبران نورو بندګانو ته دا پیغامونه په ښه ډول (طریقه) سره بی له تزئیده او بی له تنقیصه ورسوی.

# وَاَحَاطَ بِمَا لَدَيْهِمْ وَاَحْصٰى كُلَّ شَىْءٍ عَدَدًا ﴿۲۸﴾ ع

او نیوونکی دی (علم د الله او چاپیر دی) په هغه (علم) باندی چه په نزد د دغو (ملائکو او رسولانو) دی او شمیرلی ساتلی دی (الله) هر شی د شمیر او عدد له مخی. (په ډیر ښه انضباط سره).

**تفسیر:** یعنی هر شی د هغه الله تعالیٰ تر کتنی او نګرانی لاندی دی. هیڅوک د دی خبری طاقت نه لری چه د الله تعالیٰ په وحی کښی څه تغیر او تبدیل او قطع او بریکره وکړی. او دا پیری او څوکۍ د حکومت د شان د اظهار او د محافظت د اسبابو د سلسلی دپاره ډیرو حکمتونو لره نیوونکی دی. که نه هغه لوی ذات چه په علم او قبضه کښی یی هر شی شته داسی شیانو ته هیڅ احتیاج نه لری او نه ورته اړ (محتاج) دی.

**تمت سورة الجن بفضله وکرمه فلله الحمد والمنة**

سورة المزمل مكية الا الآيات (۱۰) و (۱۱) و (۲۰) فمدنية وهی عشرون آية و ركوعان رقمها (۷۳) تسلسلهاحسب النزول (۳) نزلت بعد سورة «القلم».

د «المزمل» سورت مکی دی پرته (علاوه) له (۱۰ ؤ ۱۱ ؤ ۲۰) یته څخه چه مدنی دی شل آیته او دوه رکوع لری په تلاوت کښی

(۷۳) او په نزول کښی (۳) سورت دی وروسته د «القلم» له سورت څخه نازل شوی دی

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ○

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

يٰٓاَيُّهَا الۡمُزَّمِّلُ ۙ﴿۱﴾

ای نغښتونکیه د ځان په جامه کښی (له هیبته د وحی).

**تفسير:** دا سورت له ابتدائی سورتونو څخه دی چه په مکه کښی نازل شوی دی. په صحیحو روایاتو کښی دی چه په شروع کښی کله چه د وحی له ثقل او دهشته د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم بدن ریږدیده نو دوی خپلی کورنی ته وفرمایل (زملونی زملونی! په کالیو (جامو) کښی می ونغاړئ! په کالیو (جامو) کښی می ونغاړئ!) لکه چه دوی په کالیو (جامو) کښی ونغښتل شول. الله تعالیٰ په دی سورت کښی او په لاندنی سورت کښی ځمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم په هم دی نامه سره یادوی. او په ځینو روایتونو کښی راغلی دی چه قریش په «دارالندوه» کښی تول شوی ؤ او د دوی په نسبت ئی مشوری سره کولی چه د دوی له حال سره مناسب کوم لقب ورکړ شی ځینو ئی «کاهن» ځینو ئی «مجنون» ځینو ئی «ساحر» وویل خو یو هیڅ یوی خبری باندی د دوی د رأیو اتفاق حاصل نشو ـ په پای (آخر) کښی د «ساحر» په لوری ئی رجحان حاصل شو. کله چه ځمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم له دی جرګی څخه خبر شو نو خفه په کالیو (جامو) کښی ئی خپل ځان ونغښتو کیناست لکه چه په عام دول (طریقه) سره د غم او خپګان په وقت کښی هم داسی وضعیت له ښه سریو څخه لیده کیږی. نو په دی مناسبت سره حق تعالیٰ د تأنیس او ملاطفت دپاره په دی عنوان سره ورته خطاب فرمائی لکه چه ځمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم یو ځلی حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه ته هم داسی خطاب فرمایلی ؤ چه «قم ابا تراب» کله چه هغوی له کوره مرور شوی او د مسجد پر ځمکی باندی غځیدلی و.
حضرت شاه عبدالعزیز رحمة الله علیه لیکی چه په دی سورت کښی د کند اغوستلو (خرقه پوشی) لوازم او شرائط بیان شوی دی. ګواکی دا سورت د هغه سری سورت دی چه د فقیرانو کند اغوندی او ځان ته هم دا رنګ او شکل غوره کوی. د عربو په لغت کښی «مزمل» هغه سری ته

وایه شي چه ډیر ارت کالی (جامی) پخپل ځان باندی ونغاړی او د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم هم دا معمول و. کله به چه د تهجد یا د قرآن شریف د تلاوت دپاره د شپې له مخی پاڅیدل نو یوه اوږده کمبله به ئی اغوسته چه له یخنئ ځنی پری ساتلی وی او د لمانځه او اوداسه په حرکاتو کښې هیڅ ډول (طریقه) رېړ (زحمت) او تکلیف دوی ته عائد نشي. او هم د دی عنوان له غوره کولو ځنی د هغو خلقو ویښول مقصد دی چه خپل ځانونه په کالیو (جامو) کښې نغاړی او له ماښامه تر سحره پوری مست اوده کیږی تر څو هغوی هم له خوبه پاڅیدلی د شپې یوه معتدبه برخه د الله تعالیٰ په یاد سره تیره کړی.

## قُمِ الَّيْلَ إِلَّا قَلِيلًا ۝٢

ودریږه (لمانځه ته) په شپه کښې مګر خو په لږه (له تولی شپې نه).

**تفسیر:** یعنی که کومه شپه اتفاقاً ونه شوه نو معاف دی. د ډیرو مفسرینو په نزد د (الاقلیلاً) مطلب دا دی چه د شپې له مخی د الله تعالیٰ د عبادت دپاره ودریږی. هو! که د شپې په کومه لږه برخه کښې هوسا (دمه) کیږی. نو څه مضائقه نشته. اغلباً له لږو ځنی به مطلب دلته نیمائی وی. ځکه شپه چه د هوسائی (آرام) دپاره ده کله چه نیمه ئی په عبادت باندی تیره شوه نو په هغه اعتبار پاتی نیمی ته ئی لږ ویل موزون ښکاری. ودریږه ای محمده لمانځه ته په لږه د شپې کښې.

## نِّصْفَهُۥٓ أَوِ ٱنقُصْ مِنْهُ قَلِيلًا ۝٣ أَوْ زِدْ عَلَيْهِ

(چه هغه نیمه د شپې ده) یا لږه کړه له هغی (نصفه) لږ څه (چه ثلث دی) یا زیاته کړه په هغی (نیمی شپې) باندی (چه ثلثان دی)

**تفسیر:** یعنی له نیمی شپې ځنی څه لږه چه تر دریمی برخی پوری ورسیږی یا له نیمائی ځنی څه زیاته چه تر دوو ثلثو پوری ورسیږی په قرینی د هغی وینا د الله تعالیٰ چه وروسته له دی نه ئی داسی لولو ﴿ إِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ أَدْنَىٰ مِن ثُلُثَيِ ٱلَّيْلِ وَنِصْفَهُۥ وَثُلُثَهُۥ ﴾ الآیة - .

## وَرَتِّلِ ٱلْقُرْءَانَ تَرْتِيلًا ۝٤

او ښکاره واضح لوله قرآن په ښکاره واضح لوستلو سره (چی وشمیرلی شی حروف ئی)

**تفسیر:** یعنی په تهجد کښې قرآن په وضاحت سره لوله چې یو یو توری ئې په صاف ډول سره وپوهیدی شي ځکه چې له داسې لوستلو څخه فهم او تدبر ته ډیر مدد رسیږي او په زړه باندې زیات اثر کوي او په شوق او ذوق کښې زیادت راولي.

إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا ۝٥

بیشکه مونږ غورځوونکي یو پر تا باندې قول دروند (قرآن ځکه چه مشتمل دی په اوامرو او نواهیو سخت دی پر مکلفینو باندې)

**تفسیر:** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکي «یعنی ریاضت وکړه چه دروند پیټی دی آسان شي!» او هغه پیټی (بار) داسې دی چه د هغه په مخامخ کښې د شپې ویښتوب ډیر آسان وګڼه شي. مطلب دا دی چه وروسته له دی نه به پر تاسې باندې پرله پسې مونږ قرآن کریم رانښکته کوو چه د خپل قدر او منزلت په اعتبار ډیر قیمتدار او وزندار او د خپلو کیفیاتو او لوازمو په اعتبار ډیر دروند او ګران بار دی. په احادیثو کښې راغلي دي چه د قرآن کریم د رانښکته کیدلو په وقت کښې پر رسول اکرم باندې ډیره سختي او تکلیف تیریده د یخنۍ په موسم کښې هم دوی خولي کیدل. که د وحی په وقت کښې پر هر یوه بوده (ښاروی) باندې سور ؤ هغه به د دوی د سورلي توان نه درلود (لرلو). یو ځلې د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم پتون د زید بن ثابت پر پتون باندې و په دی وقت کښې وحی نازله شوه زید بن ثابت ته داسې محسوسه شوه ګواکې د هغه پتون له ډیره باره ماتیږي . برسیره په دی په شاؤخوا کښې د قرآن کریم دعوت او تبلیغ او د هغه د نورو حقوقو پوره اداء کول او په دی لاري کښې ګردې (تولي) سختي په روڼ تندی سره تیرول هم ډیر لوی او مشکل کار و. او همغسې چه له یوه حیثیته دا کلام پر دوی باندې دروند و په بل حیثیت پر کافرانو او منکرانو باندې هم ډیر شاق ؤ. الغرض د دی ګردو (تولو) وجوهو په ملاحظه پر رسول اکرم صلی الله علیه وسلم باندې امر صادر شو چه هومره قرآن کریم چه نازل شوی دی د هغه په تلاوت باندې د شپې له لوری مشغول شئ! او د دی خاص عبادت په انوارو باندې خپل ځان مشرف او منور کړئ! او د دی عظیم فیض د قبولیت استعداد پخپل مبارک وجود کښې لا مستحکم وفرمایئ.

إِنَّ نَاشِئَةَ الَّيْلِ هِيَ أَشَدُّ وَطْـًٔا وَأَقْوَمُ قِيلًا ۝٦

بیشکه پورته کیدل د شپې (له خوبه) دغه (پاڅیدل) ډیر سخت دی له پلوه د مشقته پائمال کولو د نفس (یا له حیثیته د موافقته د سمع له قلبه سره) او

ډیر ښه ثابت محکم دی (دا پورته کیده له خوبه لپاره د ویلو د قرآن).

**تفسیر:** یعنی د شپې له مخې له خوبه پاڅیدل کوم آسان کار نه دی ډیر دروند ریاضت او نفس وژل دی او له هغه څخه نفس او هوس پایمال کیږي او خوب او آرام او نوري نفساني غوښتنې خرابیږي او د شپې په منځ کښې دعاء او د الله تعالیٰ یاد په ډیر ښه ډول (طریقه) سره کاوه شي. زړه او خوله سره ملګرتیا کوي او هغه خبرې چه له ژبې څخه راوځي په ذهن کښې ښه ځای نیسي ځکه چه په دې وقت کښې شورماشور نه وي او د الله تعالیٰ له نزول څخه د دنیا په آسمان کښې زړه ته یو راز (قسم) عجیب سکون او قرار، لذت او د اشتیاق کیفیت ورمیسر او حاصلیږي.

إِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ سَبْحًا طَوِيلًا ⑦

بیشکه تا لره (ای محمده!) په ورځې کښې شغل دی په کارونو اوږدو کښې (له مخلوق سره).

**تفسیر:** یعنی په ورځ کښې د خلقو پوهول او نور راز راز (قسم قسم) مشاغل او چارې ستاسې په مخ کښې دي اګر که هغه هم بالواسطه عبادت دی خو سره له هغه هم د پروردګار د بلا واسطې عبادت او مناجات دپاره د شپې اوقات تاکل (مقررول) هم لازم دي که د شپې د مشغولتیا لامله (له وجې) ځینې د شپې چارې پاتې کیږي نو د هیڅ فکر کولو ځای نه دی او د هغو تلافي د ورځې له مخې هم کیدی شي.

وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ إِلَيْهِ تَبْتِيلًا ⑧

او یادوه نوم د رب خپل او جلا (جدا) شه له هر شي څخه په لوري د دغه (رب خپل) جلا (جدا) کیدل کامل.

**تفسیر:** یعنی علاوه د شپې له قیامه د ورځې له مخې هم اګر که په ښکاره ډول (طریقه) له مخلوقاتو سره معاملات او علائق ساتلي کیږي خو په زړه کښې د هغه الله تعالیٰ علاقه ډیره زیاته وساتئ!. او په تللو او راتللو ناستې ملاستې کښې هم د الله تعالیٰ په یاد او فکر کښې مشغول اوسئ! پرته (علاوه) له الله تعالیٰ نورو شیانو ته مه متوجه کیږئ! بلکه له ګردو (ټولو) تعلقاتو ځنې ځان وساتئ! او یواځې له هغه سره خپل تعلق او علاقې ټینګې ولرئ.! یا داسې وواییځ چه ښائي ګرد (ټول) تعلقات په همغه یوه تعلق کښې مدغم شي چه صوفیه د هغه تعبیر بې له ګردو

(تولو) او سره له گردو (تولو)» یا د «ځان ته کیدلو په تولنه کښی» سره کوی. یادوه! ای محمده! نوم د رب خپل هغه چه:

رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ

(هم دغه الله) رب د مشرق د لمرختو دی او (رب) د مغرب لمرپریوتو دی (بلکه د تولو شیانو دی).

**تفسیر:** مشرق د ورځی او مغرب د شپی نښه ده. گواکی اشاره ئی وکړه چه شپه او ورځ دواړه د هغه مشرق او مغرب د مالک اجل واعلیٰ شانه واعظم برهانه په رضاء غوښتلو سره ښایی صرف کړی شی.

لَآ إِلٰهَ إِلَّا هُوَ فَاتَّخِذْهُ وَكِيلًا ﴿٩﴾

نشته بل هیڅوک حقانی معبود مگر خو هم دی دی یواځی نو ونیسه دغه (الله) وکیل کار ورسپالی شوی کار جوړوونکی لپاره د امورو خپلو.

**تفسیر:** یعنی بندگی هم د هغه وکړئ! او توکل هم پر همغه باندی ښائی چه سری ولری.! کله چه هغه وکیل او کار چلوونکی وی نو له نورو ځنی د جلا (جدا) اوسیدلو څخه هیڅ ویره نه ده په کار.

وَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُولُونَ

(نو فرمائی الله) او صبر کوه (ای محمده!) په هغه څه باندی چه وائی ئی دوی (ځما او ستا په حق کښی)

**تفسیر:** یعنی کفار تاسی ته ساحر ـ کاهن ـ مجنون ـ مسحور او نور وائی او ماته د ښځی او ولد نسبت کوی تاسی داسی خبری په ډیر صبر او استقلال سره واورئ! تحمل وکړی.!

وَاهْجُرْهُمْ هَجْرًا جَمِيلًا ﴿١٠﴾

او پریږده دوی پریښوول نیک (یعنی صبر کړه! او شورماشور مه کوه!).

**تفسیر:** ښه پرېښوول دا دی چه اول په ښکاره ډول (طریقه) سره د هغوی صحبت ترک کړئ! او په پټه سره د هغوی له احوال څخنی خبردار شئ! چه څه کوی؟ او څه وایی؟ او پاک الله ځرنګه یادوی ـ دوهم دا چه د هغوی د بدسلوکی شکایت د نورو په مخ کښې ونه کړئ؟ او نه په انتقام اخیستلو پسی وګرځئ!. او نه د ویلو او د مکالمی او مقابلی په وقت کښې د خپګان اظهار وکړئ!. دریم دا چه سره د بیلتانه او مفارقت د هغوی په نصیحت کښې قصور ونه کړئ! بلکه په هر ډول (طریقه) چه کیدی شی د هغوی په هدایت او لارښوونه کښې سعی وکړئ! حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «یعنی له ګردو (تولو) څخه یواځی شه! مګر په جنګ او شور سره نه بلکه په ښه سلوک سره» مګر په یاد ئی ولرئ چه دا آیت مکی دی او د قتال آیت مدنی دی.

وَذَرۡنِي وَٱلۡمُكَذِّبِينَ أُوْلِي ٱلنَّعۡمَةِ وَمَهِّلۡهُمۡ قَلِيلًا ⑪

او پرېږده ما او دروغ کوونکی چه خاوندان د نعمت دی او مهلت ورکړه دوی ته (مهلت) لږ.

**تفسیر:** یعنی د حق او صداقت د دروغجن کوونکی معامله چه په دنیا کښې په عیش او آرام دی ماته وسپارئ! زه به له هغوی سره پوهیږم مګر لږ څه ورورسته.

إِنَّ لَدَيۡنَآ أَنكَالٗا وَجَحِيمٗا ⑫ وَطَعَامٗا ذَا غُصَّةٖ وَعَذَابًا أَلِيمٗا ⑬

بیشکه په نزد ځموږ دی (لپاره د منکرانو په آخرت کښې) ځنځیرونه درانه او اور سوځوونکی. او طعام نښتونکی په مری کښې (چه د زقوم او ضریع ونه ده) او عذاب دردناک.

**تفسیر:** یعنی عذاب دردناک د مارانو ، لړمانو او الله پوهیږی په نورو څه څه راز (قسم) عذابونو (العیاذ بالله).

يَوۡمَ تَرۡجُفُ ٱلۡأَرۡضُ وَٱلۡجِبَالُ وَكَانَتِ ٱلۡجِبَالُ كَثِيبٗا مَّهِيلًا ⑭

(دا واقع عذابونه په هغی) ورځی کښې دی چه وخوځیږی ولړځیږی ځمکه او غرونه او شی به دا غرونه لکه د شګو ډیری روانی شوی (تیت پیت (خواره واره) له ډیره هیبته).

**تفسیر:** یعنی د هغه عذاب تمهید له هغه وقت راهیسی شروع کیږی کله چه د غرونو بیخونه سست شی او په خوځیدو او لړځیدلو سره توتی توتی والوځی او داسی راښکاره شی لکه د شګی دلی چه څوک په قدم پری نشی ایښودی.

اِنَّآ اَرْسَلْنَآ اِلَيْكُمْ رَسُوْلًا ۙ شَاهِدًا عَلَيْكُمْ

بیشکه مونږ لیږلی مو دی تاسی ته (ای محمدی امته!) رسول (محمد) شاهد په (اعمالو د) تاسی باندی (په ورځی د قیامت کښی)

**تفسیر:** یعنی دا پیغمبر به د الله تعالیٰ په مخ کښی شاهدی ورکوی چه کوم سری د الله تعالیٰ وحدانیت او د انبیاؤ رسالت او شریعت منلی دی؟ او کوم سری نه دی منلی؟.

كَمَآ اَرْسَلْنَآ اِلٰى فِرْعَوْنَ رَسُوْلًا ﴿۱۵﴾

لکه چه لیږلی وو مونږ فرعون ته رسول (موسیٰ علیه السلام).

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ د حضرت موسیٰ علیه السلام په شان تاسی ته هم ای محمده صلی الله علیه وسلم! مستقل دین او عظیم الشان کتاب درکری دی. ښائی چه دا د هغی پیشګوئی په لوری اشاره وی چه د (سفر استثناء) په تورات کښی مرقومه ده چه «زه به هغوی کښی له ورونو د تاسی یعنی د بنی اسمٰعیل څخنی تاسی غوندی یو نبی پاځوم»

فَعَصٰى فِرْعَوْنُ الرَّسُوْلَ فَاَخَذْنٰهُ اَخْذًا وَّبِيْلًا ﴿۱۶﴾

نو عصیان نافرمانی وکړه فرعون له هغه رسول (موسیٰ علیه السلام) څخه پس ونیو مونږ دغه (فرعون) په نیولو سختو سره.

**تفسیر:** کله چه الله تعالیٰ د موسیٰ علیه السلام منکران په سختی سره ونیول او د غرق له لاری ئی حرق ته واستول نو د محمد صلی الله علیه وسلم منکرین به ولی نه نیسی چه له ګردو (تولو) پیغمبرانو څخنی افضل او برتر دی.

فَكَيْفَ تَتَّقُوْنَ اِنْ كَفَرْتُمْ يَوْمًا يَّجْعَلُ الْوِلْدَانَ شِيْبًا ﴿۱۷﴾

پس څرنګه به وساتئ (ځانونه خپل) که چیری کافران منکران شئ (تاسی په دنیا کښی) له (عذاب د) هغی ورځی څخه (چه له هیبته) به وګرځوی هلکان واړه سپین ږیری (چه ورځ د قیامت ده).

**تفسیر:** یعنی که په دنیا کښی خلاص شوئ نو په آخرت کښی به څرنګه خلاصیږئ چه د هغی ورځی د ډیر اوږدوالی سختوالی لامله (له وجی) به هلکان زاړه کیږی. که څه هم په حقیقت کښی خو هلکان نه زاړه کیږی خو د هغی ورځی د سختی اوږدوالی اقتضاء به هم داسی وی.

اِلسَّمَآءُ مُنۡفَطِرٌۢ بِهٖ ؕ كَانَ وَعۡدُهٗ مَفۡعُوۡلًا ۝۱۸

آسمان به (وچوی په سبب د هیبت شدت د دغی ورځی) ده وعده د هغه (الله په راتلو د دغی ورځی سره) کیدونکی خامخا.

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ وعده ضروری ده اګر که تاسی هغه ډیره لری وګڼئ او غیر ممکنه ئی وبولئ.

اِنَّ هٰذِهٖ تَذۡكِرَةٌ ۚ فَمَنۡ شَآءَ اتَّخَذَ اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيۡلًا ۝۱۹ ع

بیشکه دا (آیتونه) ویروونکی تذکره پند دی (خلقو لره) نو هر هغه څوک چه اراده کوی (چه) نیسی رب خپل ته لاره (د ایمان په دغه نصیحت سره ودی نیسی).

**تفسیر:** یعنی نصیحت کړی شوی دی نو اوس که څوک خپله فائده غواړی پر هغه نصیحت باندی دی عمل وکړی! او خپل پروردګار ته دی ځان ورنژدی کړی او ملجاء دی ونیسی! ځکه چه لاره خلاصه ده او هیڅ ممانعت نشته او نه له هغه څخه الله تعالیٰ ته څه فائده رسیږی بلکه په هغه کښی ستاسی ډیری فائدی او ګټی دی نو پر صافه سمه لاره لاړ شئ!

**تنبیه:** د شپی د ویښیدلو امر چه د دی سورت په شروع کښی یاد شو تقریباً تر یوه کال پوری وروسته له هغه هغه آیت په دغه راتلونکی آیت سره منسوخ شو.

اِنَّ رَبَّكَ يَعۡلَمُ اَنَّكَ تَقُوۡمُ اَدۡنٰى مِنۡ ثُلُثَىِ الَّيۡلِ

وَنِصۡفَهٗ وَثُلُثَهٗ وَطَآئِفَةٌ مِّنَ الَّذِيۡنَ مَعَكَ ؕ

بیشکه رب د تا عالم دی په دی بیشکه ته چه ئی پاڅیږی لمانځه ته په شپه کښی لږ له دوو برخو د شپی څخه او نیمه برخه د شپی او دریمه برخه د شپی او (هم دا رنګه پورته کیږی لمانځه ته) یوه طائفه له هغو کسانو څخه چه له تاسره دی (په دین کښی له مؤمنانو).

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ ته ښکاره ده چه تاسی او ستاسی ملګرو د دی امر تعمیل په ښه شان سره کړی دی کله مو نیمه شپه کله مو دوه برخی کله مو تر دریو برخو د شپی پوری د الله تعالیٰ عبادت کړی دی لکه چه په روایاتو کښی راغلی دی چه د لویو اصحابو رضی الله تعالیٰ عنهم پښی د شپی د ډیرو ودریدلو لامله (له وجی) پړسیدلی وی او د ځینو ئی له ډیر پړسوبه چاودی شوی وی بلکه ځینی حضراتو به خپلی څنی (ویښته) پاس په سقف او چت کښی تړلی تر څو د ویدیدلو په وقت کښی هغه کش او دوی ویښ شی.

وَاللّٰهُ يُقَدِّرُ الَّيۡلَ وَالنَّهَارَ ؕ عَلِمَ اَنۡ لَّنۡ تُحۡصُوۡهُ
فَتَابَ عَلَيۡكُمۡ فَاقۡرَءُوۡا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الۡقُرۡاٰنِ ؕ

او الله اندازه کوی ساتی شپه او ورځ پوه دی (الله) په دی شان دا دی چه هرګز به طاقت ونه لرئ تاسی د هغی (شپی چه پورته کیږئ پکښی په هغه تاکلی (مقرر کړی) وقت) نو معافی ئی ولیږله پر تاسو باندی (او درآسانه ئی کړه او د قیام فرضیت ئی ساقط کړ) پس ولولئ (په لمانځه کښی) هومره چه آسان وی له قرآنه.

**تفسیر:** یعنی د شپی او د ورځی پوره اندازه او میچ الله تعالیٰ ته معلوم دی هم دی په یوی ځان ته (خاصی) اندازی سره کله شپه او کله ورځ اوږدوی ـ لندوی او برابروی ئی خپل ګرد (تول) بندګان د هغوی د خوب او د غفلت په وقت کښی چه کله نیمه او کله دری برخی او کله دوه برخی او کله پر ګردی (تولی) شپی پوری اوږدیږی په ښه ډول (طریقه) سره ئی ساتی او حفاظت ئی کوی په تیره بیا په هغو وقتونو کښی چه لکه اوس د ګریو او ګړیالونو او نورو سامان او اسباب نه و او د وقت معلومولو کار دومره آسان نه و اصحابو ته ئی داسی توفیق وباښه چه پوره پخپل وقت باندی پخپل عبادت ودریږی دا یواځی د هغه له مهربانۍ څخه و او اګر که ځینی کسان

گرده (توله) شپه له دی ویری څخه نه ویدیدل چه په ټاکلی (مقرر) وقت به ویښ نشم او د تهجد لمونځ او د شپی قیام به راڅخه پاتی کیږی. نو د دی تکالیفو لامله (له وجی) الله تعالیٰ پخپل رحمت سره د معافی امر هغوی ته ولیږه او وئی فرمایل چه تاسی په دی دول (طریقه) سره تر آخره پوری نشئ دریدلی نو ځکه هر چا لره چه د ویښیدلو توفیق وی پا دی څیږی! او هر څومره ئی چه زړه غواړی لمونځ دی وکړی! او هر څومره ئی چه خوښه وی هومره قرآن دی پکښی ولولی!. نو اوس پر محمدی امت باندی نه د تهجد لمونځ فرض دی او نه ئی د وقت مقدار او نه د قرآن شریف د تلاوت او د لوست انداز ئی ټاکلی (مقرر) شوی دی.

---

عَلِمَ اَنْ سَيَكُوْنُ مِنْكُمْ مَّرْضٰى ۙ وَاٰخَرُوْنَ يَضْرِبُوْنَ فِى الْاَرْضِ يَبْتَغُوْنَ مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ ۙ وَاٰخَرُوْنَ يُقَاتِلُوْنَ فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۖ فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ ۙ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ

---

پوه دی (الله) شان دا دی چه ژر به شی بعض له تاسی څخنی مریضان ناروغان او وی به نور له تاسی څخه چه سفر مزل به کوی دوی په ځمکه کښی لټوی به دوی له فضله رزقه د الله او وی به نور له تاسی څخه چه جنګونه به کوی دوی په لاری د الله کښی نو لولئ تاسی (په لمانځه کښی) هومره چه آسان وی له دغه (قرآنه) او قائموئ سم ودروئ لمونځ (سره له تولو حقوقو ئی) ورکوئ زکوٰة.

---

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ ولیده او ښه ورته معلوم و چه په تاسی کښی به رنځوران او پردیسیان هم وی چه د خوړو د ګټلو یا د علم د زده کولو یا د نورو دپاره به سفرونه کوی او هم به غازیان او مجاهدین وی چه د الله تعالیٰ په لاری کښی جنګونه کوی نو سره له دی حالاتو د شپی ویښیدل او د هغه په احکامو باندی عمل کول به ډیر سخت کار وی نو ځکه ئی هغه پر تاسی باندی تخفیف کړ او وئی فرمایل چه په لمانځه کښی هومره قرآن چه لوستلی شئ وئی لولئ! او پر خپلو ځانونو باندی نور زیات څه تکلیف وانه خلئ! هو! فرض لمونځونه پر ډیر اهتمام او توجه سره وکړئ.! او له شریعت سره برابر زکوٰة ورکوئ! او د الله تعالیٰ په لاره کښی خپل مالونه ولګوئ! چه د دی چارو له کولو څخه ډیری روحانی فائدی او ترقیات حاصل کیدی شی.

**تنبیه:** په ړومبنیو اصحابو باندی تر یوه کال پوری په ډیر تاکید او تحتم سره دا شاقه ریاضت ښائی له دی جهته کړی شوی وی چه دا حضرات د ګرد (تول) راتلونکی امت هادیان او معلمان کیدونکی ؤ او ضرورت ئی درلود (لرلو) تر څو دوی ډیر ښه پاخه او په داسی رنګ سره رنګ

کړل شي چه ګرده (توله) دنیا د هغوی په هنداره (آئینه) کښې د محمدی کمالاتو ننداره (نظاره) وکړی ـ او دا قدسیه نفوس د ټول امت د اصلاح پیټی پر خپلو اوږو باندی واخیستی شی. والله اعلم.

وَأَقْرِضُوا اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا ۚ

او قرض کوئ تاسی له الله سره قرض ښه مال ورکوئ په لاره د الله کښې (په خوښی له حلالو).

**تفسیر:** په پوره اخلاص سره د هغه الله تعالیٰ په لاری کښې د هغه له احکامو سره سم مال او شته لګول هم هغه ته د ښه پور (قرض) ورکولو په شان دی. که بندګانو ته حسنه قرض ورکړ شی نو هغه په هم دغه عموم کښې داخل دی ـ کماثبت فضله فی الحدیث.

وَمَا تُقَدِّمُوا لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ اللَّهِ هُوَ خَيْرًا وَأَعْظَمَ أَجْرًا ۚ

او هر هغه چه وړاندی لیږئ تاسی دپاره د ځانونو خپلو له څه خیر نیکی څخه نو بیا به مومئ تاسی هغه (نیکی) په نزد د الله دا (پخوا لیږل د حسناتو) خیر ډیره غوره ده او ډیره لویه ده له پلوه د اجر ثواب.

**تفسیر:** یعنی هغه نیکی چه تاسی ئی دلته کوئ د هغه بدل به هلته په ډیر ښه صورت سره مومئ او ډیر زیات اجر ثواب به تاسی ته له هغه څخه دررسیږی او داسی ئی مه ګڼئ هغه نیکی چه مونږ ئی په دنیا کښې کوو هم دلته ختمیږی به بلکه هغه ګرد (ټول) سامان له تاسی څخه د مخه هلته رسیږی او په عین حاجت او اړتیا (احتیاج) کښې ستاسی په کار درځی.

وَاسْتَغْفِرُوا اللَّهَ ۖ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ۝٢٠

او ښښنه وغواړئ له الله په هر حال کښې بیشکه الله دی ښه مغفرت کوونکی (د خطیاتو) ډیر رحم والا. (په انعام د اجر او ثواب سره).

**تفسیر:** یعنی تاسی ګرد (تول) شرعی حکمونه په ځای راوړئ! او بیا د الله تعالیٰ له حضوره معافی وغواړئ! ځکه هر څومره محتاط سړی چه وی بیا هم له هغه څخه څه نه څه ګناه او خطاء کیږی. څوک به دعوی وکړلی شی چه زه د الله تعالیٰ د پوره بندګی حق اداء کولی شم. بلکه هر څومره لوی سړی چه وی دغومره دی خپل ځان قاصر ګنی او د خپلو تقصیراتو مغفرت او ښنه دی غواړی. ای ښونکیه پخپل فضل او کرم سره څمونږ ګردی (تولی) خطاوی او تقصیرات راوبښه!.

## تمت سورة المزمل بفضل الله ومنه فله الحمد والمنة

سورة «المدثر» مکیة وهی ست وخمسون آیة وفیها رکوعان رقمها (٧٤) تسلسلهاحسب النزول (٤) نزلت بعد سورة «المزمل».

د «المدثر» سورت مکی دی (٥٦) آیته او (٢) رکوع لری په تلاوت کښی (٧٤) او په نزول کښی (٤) سورت دی وروسته د «المزمل» له سورته نازل شوی دی.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

يٰۤاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ ⓵ قُمْ فَاَنْذِرْ ⓶

ای په جامه کښی نغښتونکیه (له هیبته د وحی) پورته شه! (له ځایه د خوبه خپله) نو وویروه (خلق له عذابه د الله که ایمان رانه وړی).

**تفسیر:** دلته دی د «المدثر» په نسبت د «المزمل» تفسیر دی څمونږ دغه تفسیر کښی ولوستله شی یعنی د وحی له ثقاله او د پرښتو له هیبته نه ښائی چه تاسی وویریږئ یا ودار شئ؟ د تاسی کار خو دا دی چه ګردی (تولی) هوسائی (راحتونه) او آرامی مو پری ایښی دوی له الله څخه وویروئ او د کفر او د معصیت له خراب انجام څخه ئی ودار کړئ.

وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ⓷

او رب خپل پس په لوئی سره یادوه.

**تفسیر:** ځکه چه د الله تعالیٰ د لوئی د ویلو او د هغه عظمت او بزرګی له بیانولو څخه د هغه ویره په زړونو کښې پیدا کیږی او د الله تعالیٰ تعظیم او تقدیس داسی یو شی دی چه د هغه معرفت ښائی له ګردو (تولو) اعمالو او اخلاقو څخه پخوا حاصل شی. په هر حال د هغه پر کمالاتو او انعاماتو باندی نظر اچول په لمانځه کښې یا د باندی له هغه څخه د هغه لوئی اعلان کول او د ګردو (تولو) اقرار پر هغه باندی اخیستل ستاسی کار دی.

وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ﴿٤﴾ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ ﴿٥﴾

او کالی (جامی) خپل پس پاک وساته! (له پلیتی نه لکه چه ځان دی پاک ساتی) او ګندګی ګناه او بتان پس ترک کړه( دائم اوسه په ترک ئی لکه چه له نورو ګناهونو څخه په څنګ ئی!)

**تفسیر:** د دی سورت په نازلیدلو کښې حکم شوی دی چه ګرد (تول) مخلوق د خالق په لوری وبلل شی! بیا د لمانځه او نورو حکم شوی دی. د لمانځه دپاره شرط دی چه کالی (جامی) پاک وی او له پلیتی ځنی ځان وژغورل (وساتل) شی! دا دی چه هغه شیان ئی هم دلته بیان وفرمایل. دا ښکاره ده کله چه کالی (جامی) پاک ساتل له حسی او معنوی نجاستونو ځنی ضروری دی نو د بدن پاکی به په طریق اولیٰ سره حتمی او ضروری وی نو ځکه د هغه د بیان ضرورت پاتی نه شو. ځینو عالمانو د کالی (جامی) له پاک ساتلو ځنی له بدو اخلاقو ځنی د نفس پاک ساتل مراد کړی دی. او د ګندګی له لری کیدلو څخه دا معنی مرادوی چه د بتانو له ګندګی ځنی لری شئ! لکه چه تر اوسه پوری لری یئ. په هر حال په دی مبارک آیت کښې د ظاهری او باطنی طهارت تأکید مقصود دی ځکه چه پرته (علاوه) له هغه د الله تعالیٰ لوئی هغسی چه ښائی پر زړونو باندی دومره اغیزه او اثر نشی اچولی!.

وَلَا تَمْنُنْ تَسْتَكْثِرُ ﴿٦﴾ وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ ﴿٧﴾

او مه کوه داسی (لږ) احسان چه بدل ئی ډیر غواړی او دپاره د رب خپل پس صبر کوه (او هیله (امید) ورته ولره احکامو ته ئی منتظر اوسه)

**تفسیر:** دلته الله اعظم برهانه همت او اولولعزمی راښیی چه هر شی مال ـ دولت ـ علم لاړ ښوونه یا نور چه چاته ورکوئ نه ښائی چه د هغه بدل عوض او ونج وغواړئ یواځی د الله تعالیٰ پر ورکړه باندی شاکر او صابر اوسئ! او هغه شدائد چه د تبلیغ او دعوت په لاره کښې تاسی ته

پیښیږی د هغه په مقابل کښې له صبر او تحمل څخه کار واخلئ! او د هغه د امر لاری ته سترگی ونیسئ! او وپوهیږئ چه دا عظیم الشان کار پرته (علاوه) له پوره زړه ورتیا حوصلی صبر او استقلال څخه هیڅ کله انجام ونه مومی. د دی آیتونو تفسیر په بل ډول (طریقه) سره هم شوی دی خو د دی حقیر په خیال دغه تفسیر بی تکلف دی.

فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُورِ ﴿٨﴾ فَذَٰلِكَ يَوْمَئِذٍ يَوْمٌ عَسِيرٌ ﴿٩﴾

کله چه پو کړه شی په صور (شپیلی) کښې نو د هغه (وقت د) پوکی په دغه ورځ کښې ورځ سخته ده.

**تفسیر:** یعنی د هغی ورځی په واقعاتو او پیښو کښې د صور نفخ او د شپیلی پوکل گواکی یوه مستقله ورځ او ځان ته پیښه ده چه له سره تر پایه پوری به له مشکلاتو څخنی ډکه وی.

عَلَى الْكَافِرِينَ غَيْرُ يَسِيرٍ ﴿١٠﴾

پر (منکرانو) کافرانو باندی نه به وی آسانه (په دوی باندی هغه ورځ).

**تفسیر:** یعنی پر منکرانو کافرانو باندی به هیڅ ډول (طریقه) آسانی نه وی. بلکه د هغی ورځی سختی به لحظه په لحظه پر هغوی باندی زیاتیږی پرته (علاوه) له مؤمنانو څخه چه که دوی سختی هم ووینی څو د څه مدت له مخی به وی او وروسته له هغه به بیا په دی باندی ډیره آسانی شی.

ذَرْنِي وَمَنْ خَلَقْتُ وَحِيدًا ﴿١١﴾

پریږده ما او هغه څوک چه پیدا کړی می دی یواځی (بی له ماله او بی له مددگاره اولاده).

**تفسیر:** هر سړی د مور له گیډی څخه یواځی او جره راځی مال، اولاد ـ فوج ـ لښکر ـ سامان ـ او نور شیان له ځان سره نشی راوړی. یا به له وحید څخه مراد خاص ولید بن مغیره وی چه د هغه په باره کښې دا آیات نازل شوی دی. ځکه چه ولید د خپل پلار یو ځوی و او د دنیوی ثروت او لیاقت له اعتباره په عربو کښې یو نومیالی سړی و. مطلب دا دی چه د داسی منکرانو په معاملو کښې چابکتیا مه کوئ! او مه د دوی له مهلت موندلو څخه خفه کیږئ! بلکه د هغوی گردی (تولی) خبری ماته پریږدئ! زه به تول پخپل هیداد (انجام) او سزا ورسوم نو نه ښایی چه

تاسی خفه او پریشان شۍ.

وَّجَعَلْتُ لَهٗ مَالًا مَّمْدُوْدًا ﴿۱۲﴾ وَّبَنِيْنَ شُهُوْدًا ﴿۱۳﴾

او بیا می ورکړځاوه ور می کړ ده ته مال ډیر زیات (له هر قسمه چه تل زیاتیده) او ځامن حاضر (کیناستونکی له ده سره په هره مرکه مجلس کښی).

**تفسیر:** یعنی ولید ځوی د مغیره د ډیر مال او اولاد او د ډیرو شتو خاوند و. لس واړه ځامن ئی تل د هغه په مخ کښی ؤ. په جرګو او مرکو کښی به ئی د خپل پلار عزت او وقار ډیر زیاتؤ او نور به تری ویریدل ـ د سوداګری چارو او د نورو کارونو دپاره به د هغه په مخ کښی ډیر سړی ؤ او هیڅ ضرورت نه پیښیده چه ځامن ئی د پلار له مخی شخه غائب شی.

وَّمَهَّدْتُّ لَهٗ تَمْهِيْدًا ﴿۱٤﴾

او تیاری می وکړه فراخی می وکړه ده لره تیاری (په عیش ـ عمر ـ مال ـ اولاد ـ ریاست سره).

**تفسیر:** یعنی ولید ځوی د مغیره په دنیا کښی ډیر د عزت خاوند و ـ او خپل ځان ته ئی د ریاست او حکومت ډیر ښه مسند تیار کړی و لکه چه ګرد (تول) قریش به هر مشکل کار کښی هغه ته ورتلل او دی به ئی د خپلو ځانونو حاکم او مشر ګانه.

ثُمَّ يَطْمَعُ اَنْ اَزِيْدَ ﴿۱۵﴾

بیا طمع کوی امید لری دی چه لا به ښه زیات کړم (ده لره دغه تول شیونه).

**تفسیر:** یعنی د ولید ځوی د مغیره له ژبی شخه سره له دغه ډیر نعمت او ثروت د شکر توری به ئی هیڅکله نه وتو. بلکه تل به د بت پاللو او د مال تولولو په حرص او طمع کښی بوخت (مشغول) او ډوب ؤ او که رسول اکرم صلی الله علیه وسلم به د هغه په مخ کښی کله د جنت د نعمتونو ذکر فرمایه نو ده به ویل «که دا سړی پخپل بیان کښی رښتین وی نو زه کامل یقین لرم چه د هغه ځای نعمتونه هم ماته رارسیږی.» نو د هغه په نسبت فرمائی چه سره له دومره ناشکری او حق نه پیژندلو داسی هیله (امید) هم لری چه الله تعالیٰ هغه ته د دنیا او آخرت نعمتونه لا زیاتوی.

دغه خوبی له ایمانه او شکرانه له سره کیدونکی نه دی. لکه پخپله الله اجل شانه واعظم برهانه داسی فرمائی:

كَلَّا ۖ إِنَّهُ كَانَ لِآيَاتِنَا عَنِيدًا ﴿١٦﴾

نه کوم داسی (چه مال رجال او نعماء ئی ډیر کړم) بیشکه هغه وو آیتونو ځمونږ لره عناد کوونکی مخالف.

**تفسیر:** یعنی کله چه د هغه حقیقی منعم له آیتونو ځنی ولید ځوی د مغیره مخالف دی نو دی هیڅ حق نه لری چه داسی توقع او هیله (امید) ولری او هسی خیالی پلاؤنه پاخه کړی. وائی چه د دی آیتونو له نازل کیدلو ځنی د وروسته پرله پسی د ده په مال او اسباب کښی نقصان پیښیده تر څو چه ملنګ او فقیر شو او په ډیره خواری او ذلت سره مړ شو.

سَأُرْهِقُهُ صَعُودًا ﴿١٧﴾

ژر ده چه مکلف به ئی کړم په مشقت عذاب سخت سره (یا) وبه ئی خیژوم پر لوړ (اوچت) غره د اور باندی.

**تفسیر:** یعنی اوس هغه ولید ځوی د مغیره ته ډیر په لوړه (اوچته) باندی ختل پاتی دی او په خورا (ډیر) سختو مصائبو کښی ئی اخته کیدل په مخ کښی دی. او په ځینو روایتونو کښی راغلی دی چه «صعود» په دوزخ کښی د یوه غره نوم دی چه په هغه باندی کافران تل خیژول کیږی او بیا د هغه له څوکی ځنی راښکته رغړول کیږی چه دا هم بالذات یو قسم عذاب دی.
**تنبیه:** ولید یو ځلی د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په حضور کښی مشرف شو دوی ولید ته د قرآن کریم څو آیتونه واورول چه ولید د هغو له اوریدلو څخه لږ څه متأثر شو مګر ابوجهل ئی وغلاؤ په قریشو کښی یو شورماشور ونښت چه که ولید مسلمان شی نو کفارو ته به سخته خرابی پیښیږی نو ځکه ګرد سره راټول شول او د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په نسبت راز راز (قسم قسم) خبری وشوی ځینو ویل چه شاعر دی او ځینو کاهن او نور ویل ولید وویل چه « زه پخپله په شعر او شاعری کښی پوه او ماهر یم او د کاهنانو خبری می هم ډیری آوریدلی دی خو دا قرآن نه شعر دی نه سحر او نه کهانت » خلقو وویل « آخر ستا فکر د هغه په نسبت څه دی؟» وئی ویل چه «ماته وار راکړی چه زه چرت (خیال) ووهم» په پای (آخر) کښی ئی وچولی (تندی) تریو او خوله ئی ورانه کړه او وئی ویل چه «هیڅ شی نه دی نه دی هغه کوډی دی چه له بابلیانو ځنی نقل شوی دی » حال دا دی چه ده پخوا له دی نه د قرآن د آوریدلو په وقت

کښې ویلی و چه دا نه کوډی دی او نه د لیونیانو د خبرو په شان دی بلکه د الله تعالیٰ کلام دی مګر یوائځې د نورو خپلوانو د خوشولو دپاره ئی وروسته له خپله ځانه ئی هسی یوه خبره جوړه کړه لکه چه وروسته د هم دی په لوری اشاره شوی ده.

إِنَّهُ فَكَّرَ وَقَدَّرَ ﴿١٨﴾ فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿١٩﴾ ثُمَّ قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿٢٠﴾

بیشکه هغه فکر وکړ (چه څرنګه طعن وکړم په قرآن) او اندازه ئی وکړه په زړه خپل کښې (کار د محمد) ووژلی شو (ملعون کړ شو) څرنګه ئی اندازه کړه بیا د ووژلی شي (ملعون د کړ شی) څرنګه ئی اندازه وکړه (په طعن د قرآن او محمد کښې).

**تفسیر:** یعنی دی بدبخت ولید پخپل زړه کښې خبره جوړه او داسی ئی غوره کړه چه قرآن کوډی دی الله تعالیٰ دی دی غارت کړی او ملعون ئی وګرځوی او ودی وژنی دا ئی څومره چټی (بیکاره) او مهمل تجویز وکړ بیا ئی الله تعالیٰ غارت کړی او ملعون ئی وګرځوی او ودی وژنی چه ده د خپل قوم د جذباتو لحاظ داسی وکړ چه سم د هغوی له خوښې سره ئی یوه هسی خبره وویله چه ګرد (تول) تری خوښ شول.

ثُمَّ نَظَرَ ﴿٢١﴾ ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ ﴿٢٢﴾ ثُمَّ أَدْبَرَ وَاسْتَكْبَرَ ﴿٢٣﴾
فَقَالَ إِنْ هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ يُؤْثَرُ ﴿٢٤﴾ إِنْ هَٰذَا إِلَّا قَوْلُ الْبَشَرِ ﴿٢٥﴾

بیا ئی وکتل (محمد یا قرآن ته) بیا ئی مخ تریو کړ او وچولی (تندی) ئی غوته کړ (له کراهیته) بیا ئی شا واړوله (له محمده) او غاړه ئی وغړوله (له اسلامیته) نو وئی ویل نه دی دا (قرآن) مګر خو سحر دی چه نقل کاوه شی (له نورو ساحرانو نه) نه دی دا (قرآن) مګر خو خبره د بشر بنی آدم ده.

**تفسیر:** یعنی ولید د کفارو تولنی ته وکتل او خوله ئی ورانه کړه بیا ئی په وینا شروع وکړه تر څو لیدونکی وپوهیږی چه دی د قرآن په نسبت سخت کراهیت او انقباض لری بیا ئی هسی شا واړوله لکه چه د یوه منفور شي په نسبت وینا کوی او حال دا دی چه پخوا ئی د ده د حقانیت په نسبت اقرار کړی و اوس دی د خپلوانو د خوښې لامله له هغی وینا څخه واوښت او په ډیر غرور او تکبر سره ئی وویل چه «بس بل شی نه دی دا هغه سحر او جادو دی چه له پخوانیو نقل شوی راځی ـ او په یقین سره دا د سړی خبره ده چه د جادو په ډول (طریقه) پلار له ځوی

ـ میره (خاوند) له ماندینی (ښځی) ـ دوست له دوسته جلا (جدا) کوی!».

نو اوس الله اعظم شانه واکرم برهانه د ده د دغی وینا داسی تردید فرمائی:

سَأُصْلِيهِ سَقَرَ ﴿٢٦﴾

(نو فرمائی الله) ژر به داخل کړم دی سقر (اور د دوزخ) ته.

**تفسیر:** یعنی ژر به هغه په اور کښی واچوم او د ده د عناد او تکبر خوندونه هغه ته وروڅکوم.

وَمَا أَدْرَاكَ مَا سَقَرُ ﴿٢٧﴾ لَا تُبْقِي وَلَا تَذَرُ ﴿٢٨﴾

او څه شی پوه کړی ئی ته چه څه دی اور د سقر چه نه پاتی کیږی (تری هیڅ شی د غوښو بی له سوځولو او نه پریږدی (هډوکی بی له سوځولو نه).

**تفسیر:** یعنی د دوزخیانو هیڅ یو شی به داسی نه پاتی کیږی چه ونه سوځی بیا له سوځیدلو څخه وروسته به په همغه خپل حال باندی هم نه پاتی کیږی بلکه دوهم ځلی به بیا پخپل هغه اصلی حالت باندی بیرته اوړی او بیا سوځی او دا سلسله به تل جاری پاتی کیږی (العیاذ بالله).
**تنبیه:** له زیاترو اسلافو ځنی هم دا معنی منقوله ده مګر ځینو مفسرینو د دی توجیه په بل دول (طریقه) سره هم کړی ده.

لَوَّاحَةٌ لِّلْبَشَرِ ﴿٢٩﴾ عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ ﴿٣٠﴾

سوځوونکی توروونکی دی (دغه اور بشره د کافرو) سریو لره په هغه (اور د سقر) باندی مؤکلی دی نولس پرښتی.

**تفسیر:** یعنی د بشری پوستکی او نور هر هغه شیان چه د انسان پر بدن په نظر راځی تول وریژیږی او تک تور به اوړی او د دوزخی حیثیت به بیخی خرابوی. حضرت شاه صاحب لیکی لکه چه اوسپنه په اور کښی سره شی او تکه سره بریښی د کافرو بنی آدمانو د ساقونو او د پنډی پوستکی او پردی به همغسی رابریښی. ځینی د ﴿لَوَّاحَةٌ لِّلْبَشَرِ﴾ ترجمه داسی کوی ظاهر کیدونکی خلقو لره یا په نظر راتلونکی پر بدن باندی ﴿عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ﴾ ـ پر هغه اور د سقر باندی مؤکلی دی نولس پرښتی) یعنی د دوزخ د انتظام دپاره هغه پرښتی لښکری چه تاکلی

(مقرر) شوی دی د هغوی مشرتوب او لار ښوونې ته نولس مشران مقرر دی چه د دوی په منځ کښې د لوی افسر نوم «مالک» دی.
**تنبیه:** حضرت شاه عبدالعزیز رحمة الله علیه په ډیر تفصیل سره د «نولسو» د عدد حکمتونه بیان کړی دی چه د کتلو وړ (لائق) دی. لنډه ئې دا چه په جهنم کښې د مجرمینو د تعذیب دپاره نولس وظیفې چارې او دندې دی چه د هرې یوې دندې (وظیفې) په ځای راوړل د یوې پرښتې تر کتنې لاندې کیږی. په دې خبرې کښې هیڅ د شک او شبهې ځای نشته چه پرښتې د ډیر زور او قوت خاوندانې دی او د یوې پرښتې له لاسه دومره کار پوره دی چه په لکونو انسانان د هغه له کولو څخه عاجز پاتې کیږی. خو په یاد ئې ولری چه د هرې پرښتې قوت په همغې دائرې کښې محدود دی چه دا په هغه کښې په کار کولو سره مأموره ده لکه ملک الموت چه د ملیونو سړیو ارواح او ساوی په یوه دقیقه (لحظه) کښې ایستلی شی مگر د ښځو په گیډو کښې د یوه وړوکی ساه نه شی اچولی. حضرت جبریل علیه السلام په یوې لمحې او رپې کښې وحی راوړی شی خو باران ورول د هغه کار نه دی. لکه چه غوږونه لیدی نشی او سترگې اوریدی نشی اگر که هر یو له دوی ځنې پخپلې مخصوصې وظیفې او دندې کښې که هر څومره سخت هم وی کار کولی شی لکه غوږ کولی شی چه په زرهاؤ غږونه واوری او دومره ستړی نشی ـ او سترگې په زرهاؤ رنگونه ووینې او په لیدلو ئې چندان ستړی نشی هم داسی که یوه پرښته د یو راز (قسم) عذابولو دپاره پر دوزخیانو باندې مقرره کیږی نو د دې له لوری یو راز (قسم) عذاب پر دوزخیانو باندې عائد کیږی ـ او هغه بل قسم عذاب چه د دې د استعداد له دائرې څخه د باندې دی ممکن نه دی نو ځکه د دې نولس قسم عذابونو دپاره چه د هغوی تفصیل په تفسیر عزیزی کښې شته نولس مسؤلې لوئې پرښتې مقررې شوی عالمانو د دې عددونو په حکمتونو باندې ډیرې خبرې کړی دی مگر د دې احقر په خیال کښې د حضرت شاه صاحب کلام په دې مورد کښې ډیر عمیق او لطیف دی. والله تعالیٰ اعلم.

وَمَا جَعَلْنَآ أَصْحٰبَ النَّارِ إِلَّا مَلٰٓئِكَةً ۙ

او نه دی گرځولی مونږ خازنانې مؤکلانې د دوزخ مگر پرښتې (ډیرې قوتناکې)

**تفسیر:** د نولسو د شمیر له اوریدلو څخه کافرانو خندل او ملندې ئې پرې وهلې او ویل به ئې چه ځمونږ شمیر له زرگونو څخه زیات دی نولس پرښتې پر مونږ باندې څه کولی شی؟ که هغوی ډیر زور ولری نو هرومرو (خامخا) ځمونږ د لسو تنو له مقابلې ځنې یوه پرښته نشی وتلی. یوه غیږ باسې (پهلوان) د دوی له منځه وویل «چه زه یواځې د دې نولسو پرښتو له منځه اوولسو تنو لره بس یم. د دوو نورو ساتنه ستاسې په غاړه ده » نو په دې مناسبت دا آیت رانازل شو. یعنې

دوی خو په شمیر نولس دی ولی پرښتی دی بنیادمان نه دی او د هری یوی پرښتی قوت دومره زیات دی چه د لوط علیه السلام تبر او کلی ئی په یوه لاس لکه چه دوډی په تبی باندی پر بل مخ اړوی واړول.

وَمَا جَعَلْنَا عِدَّتَهُمْ إِلَّا فِتْنَةً لِّلَّذِينَ كَفَرُوا

او نه دی گرځولی مونږ (دا لړ) شمیر د دوی مگر فتنه ازموینه دپاره د هغو کسانو چه کافران شوی دی (چه استهزاء او توکی پری کوی چه دا څه عدد دی چه مقرر شوی دی).

**تفسیر:** یعنی د کافرانو د عذابولو دپاره د نولسو پرښتو شمیر پر یوه خاص حکمت باندی مبتنی دی چه د هغه په لوری د «علیها تسعة عشر» په تفسیر کښی اشاره وشوه. او د دی شمیر له بیانولو څخه د منکرانو ازموینه مقصد ده چه آیا د دی له اوریدلو څخه کوم یو ویریږی؟ او کوم یو پری خاندی او ملنډی پری وهی.

او بل مو ذکر د نولسو پرښتو وکړ دپاره د دی:

لِيَسْتَيْقِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ وَيَزْدَادَ الَّذِينَ آمَنُوا إِيمَانًا
وَلَا يَرْتَابَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ وَالْمُؤْمِنُونَ

تر څو چه یقین وکړی هغه کسان چه دوی ته ورکړی شوی دی کتاب (چه یهود او نصاریٰ ځکه چه د دوی په کتابونو کښی د خازنانو د اور هم دغه عدد و) او (بل لپاره د دی چه) زیات کړی هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی په محمد له اهل کتابو نه له جهته د ایمان ایمان ئی زیات کړی (او لپاره د دی) چه ونه کړی شک هغه کسان چه دوی ته ورکړی شوی دی کتاب او (غیر له مذکورینو نه نور) مؤمنان.

**تفسیر:** یعنی اهل د کتابونو ته دا شمیر لا پخوا معلوم و لکه چه د ترمذی په یوه روایت کښی راغلی دی. یا لږ تر لږ د نورو سماوی کتابونو په ذریعه به دومره پوهیدلی وی چه یوه پرښته څومره زور او قوت لری. او حال دا دی چه نولس پرښتی هم دومره لږ شمیر نه دی. بله دا چه د تعذیب د انواعو په اعتبار ښائی چه مختلفی پرښتی پر دوزخ باندی ماموری وی او دا کار یواځی د یوی پرښتی له لاسه پوره نه دی. په هر حال له دی بیان څخه د اهل کتابونو په زړونو کښی د

قرآن د حقیت یقین پیدا کیږی او د مؤمنانو په زړونو کښې له دی څخنې د ایمان قوت لا زیاتیږی او د دی دواړو دلو په زړونو کښې د پاک قرآن په بیان کښې هیڅ یو شک او تردد او اشتباه نه پاتی کیږی. او نه مؤمنان د کافرانو په دی مسخرو او ملندو باندی تیروځی او غولیږی. او بل مو ذکر د نولسو پرښتو وکړ دپاره د دی:

وَلِيَقُولَ الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَالْكَافِرُونَ مَاذَا أَرَادَ اللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلًا ۚ

او چه ووائی هغه کسان چه په زړونو د هغوی کښې مرض ناروغی (د نفاق) ده او (ووائی) کافران څه شی اراده کړی ده الله پر دی شمیر (د ملائکو) سره له جهته د مثاله.

**تفسیر:** له ﴿ الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ ﴾ څخه منافقان یا ضعیفالایمان سری مراد دی. او له «کافرون» څخه ښکاره منکران مطلب دی.
یعنی د نولسو له بیان څخنې مقصد څه و؟ داسی ناموزونه خبره څوک منلی شی؟ (العیاذ بالله).

كَذَٰلِكَ يُضِلُّ اللَّهُ مَن يَشَاءُ وَيَهْدِي مَن يَشَاءُ ۚ

هم داسی (په شان د ګمراه کولو د منکرانو) ګمراه کوی الله هر هغه څوک چه اراده وفرمائی د ضلالت ئی او سمه لاره ښیی هر هغه چاته چه اراده وفرمائی (د هدایت ئی)

**تفسیر:** یعنی له یوه څیز څخنې یو بداستعداده سری ګمراه کیږی او یو سلیم الطبع انسان لاره مومی څوک چه غواړی کومه خبره ونه منی نو خامخا ښه خبره په بدی باندی اړوی او له هغی څخه مسخری او ملندی (توقی) جوړوی. او د هر چا په زړه کښې چه د الله تعالیٰ ویره او ایمان وی نو د هغه له آوریدلو څخه د ده ایمان ټینګیږی او یقین ئی ترقی کوی.

وَمَا يَعْلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَ ۚ

او نه پوهیږی په لښکر د رب ستا مګر هم دغه (الله پری پوهیږی او ورته معلوم

دی)

**تفسیر:** یعني د الله تعالیٰ د بېشمیرو لښکرو شمیر یواځې هغه ته معلوم دی دا نولس تنه پرښتې خو یواځې د دوزخ د کارکوونکیو پرښتو مشرانې دي.

وَمَا هِيَ إِلَّا ذِكْرَىٰ لِلْبَشَرِ ﴿٣١﴾

او نه دی دا (سقر ـ عدد ـ قرآن) مګر خو ذکر پند دی خلقو ته (چه پرې پند ونیسي).

**تفسیر:** یعني د دوزخ ذکر یواځې د عبرت پند او نصیحت دپاره دی تر څو د هغه د احوال له آورېدلو څخه خلق د الله تعالیٰ له غضبه وویرېږي او د هغه له نافرمانۍ څخه مخ واړوي.

كَلَّا وَالْقَمَرِ ﴿٣٢﴾ وَاللَّيْلِ إِذْ أَدْبَرَ ﴿٣٣﴾ وَالصُّبْحِ إِذَا أَسْفَرَ ﴿٣٤﴾
إِنَّهَا لَإِحْدَى الْكُبَرِ ﴿٣٥﴾

نه ده داسې (چه څوک به انکار وکړي له سقره) او قسم دی په سپوږمۍ باندې او په شپې باندې کله چه شا واړوي او په ګهیځ (سحر) باندې کله چه رڼ شي، بیشکه دا (اور د سقر) خامخا (یو له بلاګانو) لویو څخه دی.

**تفسیر:** یعني هغه خورا (ډېر) لوی ویروونکی او ډېر عظیم الشان شیان چه په قیامت کښې ظاهر کېدونکي دي دوزخ له هغو لویو شیانو څخه یو شی دی.

نَذِيرًا لِلْبَشَرِ ﴿٣٦﴾ لِمَنْ شَاءَ مِنْكُمْ أَنْ يَتَقَدَّمَ أَوْ يَتَأَخَّرَ ﴿٣٧﴾

ویروونکی دی (سقر) بشر بنی آدمانو لره هغه چا لره چه غواړي له تاسې څخنې چه وړاندې شي (نیکۍ جنت ته په ایمان سره) یا وروستې شي (شرور ته په کفر سره).

**تفسیر:** که وړاندې لاړ شي د نیکۍ یا د جنت په لوري دروملي که بیرته پاتې شي په بدۍ اخته

کیږی یا په دوزخ کښې لوېږی په هر ډول (طریقه) سره مقصود دا دی چه دوزخ گردو (ټولو) مکلفینو لره ډیر ویروونکی شی دی څرنگه چه د هغه ویرولو عواقب او نتائج په قیامت کښې ښکاره کیدونکی دی نو ځکه ئی پر داسی شیانو باندی قسمونه یاد کړی دی چه له قیامت سره ډیر مناسبت لری لکه د سپوږمی اول زیاتیدل او بیا لږیدل د دی نړی او جهان د نشوونما ـ او د اضمحلال او فنا مثال او نمونه ده هم داسی د دی دنیا د ژوندون نسبت د آخرت له ژوندانه سره د اختفا او اکتناف له پلوه داسی دی لکه د شپی نسبت له ورځی سره گواکی د دی دنیا ختمیدل به هسی وی لکه د شپی پایٔ (آخر) ته رسیدل او د هغی دنیا ظهور به هسی وی لکه د سپیده داغ د رڼا (رڼرا) خوریدل. والله اعلم.

كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ رَهِينَةٌ ﴿٣٨﴾ إِلَّآ أَصْحَٰبَ ٱلْيَمِينِ ﴿٣٩﴾
فِى جَنَّٰتٍ يَتَسَآءَلُونَ ﴿٤٠﴾ عَنِ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٤١﴾

هر نفس په سبب د هغه چه کړی ئی وی گروبندی به وی (په سقر کښې).
مگر خو خاوندان د ښی لاس وی به په جنتونو کښې چه پوښتنی به سره کوی یو له بل له حال د مجرمانو (گنهگارانو).

**تفسیر:** یعنی هغه خلق چه د میثاق په ورځ کښې د حضرت آدم علیه السلام د شا له ښی لوری څخه وتلی وی، او په دنیا کښې ئی هم ښی چاری کړی وی او په سمه لاره تللی وی او په موقف کښې د عرش په ښی خوا چیری چه جنت وی ودریږی او په همغه طرف رهی (روان) کیږی او د هغوی عملنامی هم په ښی لاسی کښې ورکړی شوی وی نو دا خلق نه یوازی له قیده او رنځ څخه خوشی دی بلکه د جنت په باغونو کښې خوښ ـ خوشاله او په خپل واک (اختیار) سره گرځی او په خورا (ډیر) بی فکری او فارغ البالی سره له خپلو نورو ملگرو یا پرښتو څخه د گنهگارانو احوال پوښتی چه هغوی چیری دی؟ چه دلته نه ښکاری؟.

مَا سَلَكَكُمْ فِى سَقَرَ ﴿٤٢﴾

(نو وبه وائی مؤمنان منکرانو ته داسی چه) څه شی داخل کړی یئ تاسی (ای منکرانو) په دوزخ کښې.

**تفسیر:** یعنی کله چه واوری چه گنهگاران په دوزخ کښې اچولی شوی دی نو دوی د دی گنهگارانو په لوری متوجه کیږی او داسی پوښتنی تری کوی چه تاسی سره له پوهنی او عقل

خرنګه د دوزخ په اور کښې لويدلی يئ؟.

قَالُوْا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّيْنَ ﴿٤٣﴾ وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ الْمِسْكِيْنَ ﴿٤٤﴾ وَكُنَّا نَخُوْضُ مَعَ الْخَآئِضِيْنَ ﴿٤٥﴾ وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ الدِّيْنِ ﴿٤٦﴾ حَتّٰىٓ اَتٰىنَا الْيَقِيْنُ ﴿٤٧﴾

وبه وائی (مجرمان په جواب د مؤمنانو کښې چه) نه وو مونږ (په دنيا کښې) له لمونځ کوونکيو څخه او نه وو مونږ چه طعام خواړه مو ورکړی وی مسکينانو ته او وو به مونږ چه ننوتلو شغل مو کاوه په (باطلو) خبرو کښې سره له ډيرو خبرو کوونکيو او وو به مونږ (په دنيا کښې) چه دروغ به مو ويل په ورځ د جزاء (قيامت) باندی تر هغه پوری چه راغله مونږ ته (هغه) يقينی خبره (مرګ).

**تفسير:** يعنی نه ئی د الله تعالیٰ حق وپيژنده او نه ئی د بندګانو خبر واخيست. هو! د نورو خلقو په شان به ئی د حق په خلاف بحثونه کول او په بدو صحبتونو کښې کيناسته تر څو د شکوکو او شبهاتو په دلدل کښې کيواته (ونختل) او له ګردو (تولو) څخه لويه خبره دا ده چه د هغوی باور نه ؤ چه د انصاف ورځ به هم راتلونکی وی او تل به هغو رښتيا خبری دروغ ګڼلی تر څو چه د مرګی په کنده کښې ولويده او پخپلو سترګو ئی وليده او په هغو ګردو (تولو) خبرو چه دروغ ئی بللی پوره باور وشو.

فَمَا تَنْفَعُهُمْ شَفَاعَةُ الشّٰفِعِيْنَ ﴿٤٨﴾

(نو فرمائی الله) پس نفع ګټه (فائده) به ونه رسوی دوی ته شفاعت د سپارښت کوونکيو.

**تفسير:** د کافرانو په حق کښې به هيڅوک سپارښت ونه کړی او که ئی وکړی نه به منلی کيږی.

فَمَا لَهُمْ عَنِ التَّذْكِرَةِ مُعْرِضِيْنَ ﴿٤٩﴾

پس څه شوی دی په دوی باندی چه له تذکره پنده (قرآنه) مخ ګرځوونکی دی.

**تفسیر:** یعنی سره له دی چه دا مصیبتونه د دوی په مخ کښی دی او ښه پندونه هم اوری خو هیڅ نه متأثر کیږی بلکه د هغو له اوریدلو ځنی هم غاړه غړوی.

كَأَنَّهُمْ حُمُرٌ مُّسْتَنفِرَةٌ ﴿٥٠﴾ فَرَّتْ مِن قَسْوَرَةٍ ﴿٥١﴾

ګواکی دوی (صحرائی خره) ګوره خر دی تښتیدونکی چه تښتی له ځمری (یا له غال مغال) ځنی.

**تفسیر:** یعنی د حق او حقیقت د شورماشور له اوریدلو ځنی او د الله تعالیٰ د ځمریانو له غرمبیدلو ځنی لکه ځنګلی ګدی او وحشی خره لری تښتی.

بَلْ يُرِيدُ كُلُّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ أَن يُؤْتَىٰ صُحُفًا مُّنَشَّرَةً ﴿٥٢﴾

بلکه غواړی هر یو سړی له دوی نه دا چه ورکړی شی ده ته پاڼی خوری شوی (په متابعت د محمد کښی).

**تفسیر:** یعنی نه غواړی چه د پیغمبرانو خبری واوری بلکه له دوی ځنی د هر سړی غوښتنه دا ده چه پخپله په ده باندی د الله تعالیٰ صحیفی رانازلی شی او دی هم پیغمبر وپیژنده شی لکه چه د الانعام په پینځلسمه رکوع ۱۲٤ آیت ځمونږ دغه تفسیر کښی راغلی دی ﴿ حَتَّىٰ نُؤْتَىٰ مِثْلَ مَا أُوتِيَ رُسُلُ اللَّهِ ﴾ یا دا چه د دوی د هر یوه په نامه بلاوسیله د الله تعالیٰ له لوری یوه داسی لیکه راشی چه په هغی کښی د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د اتباع امر لیکلی شوی وی لکه چه د بنی اسرآئیل د سورت په لسمه رکوع ۹۳ آیت ځمونږ دغه تفسیر کښی دی ﴿ حَتَّىٰ تُنَزِّلَ عَلَيْنَا كِتَابًا نَّقْرَؤُهُ ﴾

كَلَّا ۖ بَل لَّا يَخَافُونَ الْآخِرَةَ ﴿٥٣﴾

داسی نه ده (ور به نه کړی شی دوی ته دا پاڼی) بلکه نه ویریږی دوی له (عذابه د) آخرت ځنی.

**تفسیر:** یعنی هیڅ کله به داسی نه کیږی ـ ځکه چه نه په هغو کښی دا لیاقت شته او نه د دی خبری د اجراء دپاره څه اړه (احتیاج) او ضرورت دی. یعنی که چیری دغه پاڼی هم دوی ته ورکړی شی نو بیا هم دوی ایمان نه راوړی نو پس ښکنځ کول د دوی له ایمانه په سبب د نه

راتللو د کاغذونو سره نه دی بلکه دوی نه ویرېږی له عذابه د آخرته دوی دا چتی (بیکاره) غوښتنی د دی دپاره نه کوی چه که داسی وشی نو دوی به ایمان راوړی بلکه اصلی خبره خو دا ده چه دا خلق د آخرت له عذابه نه ویرېږی نو ځکه د دوی دا غوښتنی حقیقت نه لری بلکه یواځی تعنت او ملندی دی که بالغرض د دوی دا غوښتنی هم پوره شی بیا به هم دوی د هغه متابعت نه کوی لکه چه د انعام په اوله رکوع ۷ آیت ځمونږ دغه تفسیر کښی الله تعالیٰ فرمایلی دی

﴿ وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتٰبًا فِىْ قِرْطَاسٍ فَلَمَسُوْهُ بِاَيْدِيْهِمْ لَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴾

كَلَّآ اِنَّهٗ تَذْكِرَةٌ ۚ﴿۵۴﴾ فَمَنْ شَآءَ ذَكَرَهٗ ۭ﴿۵۵﴾

نه ده داسی چه دوی وائی (قرآن ته چه سحر کهانت دی) بیشکه دا (قرآن) تذکره پند دی. پس هر هغه څوک چه غواړی پند دی واخلی له دغه (قرآن).

**تفسیر:** یعنی داسی له سره نشی کیدی چه هر یوه ته بیل بیل کتاب ورکړ شی هم دا یو کتاب پاک قرآن د پند دپاره بس او کافی دی ﴿ فَمَنْ شَآءَ ذَكَرَهٗ ﴾ - پس هر هغه څوک چه غواړی پند دی واخلی له دغه قرآن څخه) حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «یعنی که دا کتاب په یوه باندی نازل شو نو څه وشوه دا خو ستاسی د ټولو د ښیګنو (فایدو) دپاره دی.

وَمَا يَذْكُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ ۭ

او نه آخلی پند (له قرآنه) دوی مګر که اراده وفرمائی الله (د هدایت ئی)

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ غوښتل او نه غوښتل اګر د ده په حکمت باندی مبنی دی چه هیڅ یو بشر په هغه باندی احاطه نشی کولی هم دی د هر سړی استعداد او لیاقت په ښه ډول (طریقه) سره پیژنی او سم له هغه ورسره معامله کوی.

هُوَ اَهْلُ التَّقْوٰى وَاَهْلُ الْمَغْفِرَةِ ﴿۵۶﴾ ع

همغه (الله) دی اهل (وړ) د ویری (چه تری ویرېږو) او اهل د ښښنی (چه ښښنه تری غواړو)

**تفسیر:** یعنی سړی هومره ګناه چه وکړی خو هر کله چه د تقویٰ په لاری باندی لاړ شی او له

الله تعالیٰ ښخه وویرېږی نو دی به ئی ګرد (ټول) ګناهونه وبښی او د هغه توبه به ومنی. له انس ابن مالک رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت شوی دی چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په دی ځای کښی د منهیی حاشیی په ډول (طریقه) د دی آیت له لوستلو څخه وروسته وفرمایل چه د هغه الفاظ دا دی «**قال ربکم عزوجل انا اهل ان اتقیٰ فلا یشرک بی شئ فاذا اتقانی العبد فانا اهل ان اغفر له** - زه د دی خبری لائق او وړ (قابل) یم چه بنده له ما څخه وویرېږی او له ما سره دی بل څوک شریک ونه ګڼی کله چه بنده له ما څخه وویرېږی او د زړه په اخلاص له شرک څخه ځان وژغوری (وساتی) نو ځما شان دا دی چه زه ئی ګناهونه وبښم » الله تعالیٰ مو دی پخپل فضل او کرم سره په توحید او ایمان باندی قائم او دائم ټینګ ولری او پخپلی مهربانی مو دی ټول ګناهونه راوبښی.

## تمت سورة المدثر بمنه وتوفیقه فله الحمد والمنة

سورة القیٰمة مکیة وهی اربعون آیة وفیها رکوعان رقمها (۷۵) تسلسلهاحسب النزول (۳۱) نزلت بعد سورة «القارعة».

د «القیامة» سورت مکی دی (٤۰) آیته او (۲) رکوع لری په تلاوت کښی (۷۵) او په نزول کښی (۳۱)

سورت دی وروسته د «القارعة» د سورت څخه نازل شوی دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

لَآ أُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ ﴿١﴾

قسم خورم زه په ورځی د قیامت باندی.

**تفسیر:** یعنی د قیامت د ورځی امکان د عقل له مخی او متیقن‌الوقوع کیدل ئی د داسی مخبر صادق په وینا سره ثابت شوی دی چه د هغه په صدق باندی قطعیه دلائل قائم دی. زه په هغه باندی قسم خورم چه تاسی په یقین وروسته له مرینی څخه بیا ژوندی کیږئ او ضرور به د ښو او د بدو حساب کیږی.

**تنبیه:** ښکاره دی وی چه په دنیا کښی شو راز (قسم) داسی شیان دی چه خلق په هغو باندی قسمونه خوری . په خپل معبود باندی ، په معظمو او محترمو شتو باندی په کوم مهتم بالشان څیز باندی

پر کوم عجیب او نادر شی باندی د هغه د ښیگڼی (فایدی) او ندرت ورښوولو دپاره. لکه چه وائی چه د فلانی په قسمت باندی قسم یاد کړئ! بیا بلغاء د دی خبری رعایت هم کوی چه د مقسم به او مقسم علیه په منځ کښی څه مناسبت هم وی - او دا هم ضروری نه ده چه په هر ځای کښی خامخا مقسم به د مقسم علیه دپاره شاهد وگرځاؤ شی لکه په دی بیت کښی

هومره ستا د توری د ښیگڼی (فایدی) یم زیمنه

لوړمه په سر دی چه سر می دی درښکته

په دی بیت کښی د خپل سر تیتوالی او د خپل محبوب په سر باندی لوړل (قسم خوړل) څومره ښه او موزون دی. اسلامی شریعت مسلمانانو ته پرته (علاوه) له الله تعالیٰ پر بل شی باندی قسم یادول حرام کړی دی. خو د الله تعالیٰ شان له بندگانو څخنی جلا (جدا) او بیل دی هغه لوی ذات پرته (علاوه) له خپل ځان په بل باندی هم قسم یادوی او عموماً پر هغه شیانو باندی قسم یادوی چه د ده په نزد محبوب یا نافع یا وقیع او مهتم بالشان وی. یا مقسم علیه لپاره په ډول (طریقه) د شاهد او حجت ودراوه شی. دلته د قیامت په ورځ لوړل (قسم خوړل) د هغه د نهایت وقیع او مهتم بالشان او عظمت له حیثیته دی او په هغه مضمون باندی ئی چه قسم یاد کړی دی د هغه مناسبت ښکاره دی ځکه چه د بعث او د مجازاتو ظرف هم دغه قیامت دی. والله تعالیٰ اعلم.

## وَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلنَّفۡسِ ٱللَّوَّامَةِ ۝٢

او قسم خورم زه په نفس ملامت کوونکی (ځان خپل لره په خرابی باندی اگر که کوشش ئی کړی وی په نیکو کارونو. جواب د قسم دا دی چه خامخا به ژوندی کړی شی دوهم وار).

**تفسیر:** محققینو لیکلی دی چه د سری نفس یو شی دی خو همغه یو نفس د دریو حالاتو په اعتبار دری نومونه لری. اول که نفس د علوی عالم په لوری مائل وی او د الله تعالیٰ په عبادت او اطاعت کښی خوښی ورته حاصله وی - او د شریعت په پیروی کښی ئی اطمینان او تسلی په برخه وی نو دی نفس ته «مطمئنه» وائی لکه چه د جزء ۳۰ «الفجر» په سورت ۳۰ آیت کښی ئی لولو ﴿ يَٰٓأَيَّتُهَا ٱلنَّفۡسُ ٱلۡمُطۡمَئِنَّةُ ٱرۡجِعِيٓ إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرۡضِيَّةً ﴾ دوهم که نفس د سفلی عالم په لوری مائل وی او په دنیوی لذاتو - غوښتنو او خواهشونو کښی مبتلا او اخته وی او د بدی په لوری ئی رغبت او د شریعت له اطاعته مباعدت خوښوی نو دی نفس ته (اماره) وائی. ځکه چه هغه سری ته امر ورکوی چه په بدو چارو کښی مشغول او بوخت شی. لکه چه د جزء ۱۳ یوسف علیه السلام د سورت په اوومه

رکوع ۵۳ آیت کښې څمونږ دغه تفسیر کښې راغلی دی ﴿ وَمَآ اُبَرِّئُ نَفْسِيْ ۚ اِنَّ النَّفْسَ لَاَمَّارَةٌ ۢ بِالسُّوْٓءِ اِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّيْ ﴾ دریم نفس کله د عالم سفلي په لوری میلان کوی او په شهوت او غضب کښې اخته کیږی او کله د عالم علوی په لوری رجحان غوره کوی او له ګردو (تولو) خرابو شیانو څخه لری تښتی او که کومه خرابی یا تیرواته تری وشی نو په هغه باندی شرمیږی او خپل ځان ملامتوی نو دی نفس ته «لوامة» وائی حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی چه «د سړی نفس په اول کښې په لوبو او مزو کښې ډوب وی ـ او هیڅ د نیکی په لوری رغبت نه کوی ـ نو داسی نفس ته «نفس امارة بالسوء» وایه شئ بیا چه لږ څه عقل او هوش ورته پیدا کیږی ـ ښه او بد پیژنی ـ نو له بدو ځان ساتی ـ او کله په غفلت کښې بیا په بدو پسی منډی وهی ـ خو بیا چه ویښ شی ـ ژر تر ژره خپل ځان ملامتوی او ډیر پښیمانیږی ـ نو داسی نفس ته (نفس لوامة) وایه شی ـ بیا چه کله ښه پاک او صاف شی ـ او د زړه له کومی د ښو په لوری تمائل پیدا کوی ـ او له چټی (بیکاره) او خرابو چارو څخنی پخپله لری تښتی ـ او د بدی او خرابی له تصوره ډیر ورته ربړ (زحمت) او تکلیف رسیږی ـ نو داسی نفس ته «نفس مطمئنة» وایه شی (انتهٰی بتغییر یسیر) دلته ئی په نفس لوامی باندی قسم یاد کړ چه که د چا فطرت صحیح وی نو دی پخپله د خپل نفس له لوری په دنیا کښې په خرابی او تقصیراتو باندی ملامتی آړوی او هم دا شی دی چه پخپل خورا (ډیر) لوی او ښه او بهتر صورت سره په قیامت کښې به راڅرګندیږی (ښکاریږی).

---

## اَيَحْسَبُ الْاِنْسَانُ اَلَّنْ نَّجْمَعَ عِظَامَهٗ ۝۳

---

آیا ګمان کوی (کافر) انسان چه له سره به نه تولوو مونږ (خواره واره) هډوکی د ده (لپاره د ژوندون په ورځ د قیامت).

---

**تفسیر:** یعنی کافر انسان داسی خیال کوی چه تر هډوکی پوری هم مات او ګوډ او خواره واره شوی دی او د هغو وړوکی بخرکی هم په خاورو او نورو کښې ګډوډ شوی دی نو ښه اوس به هغه څرنګه یو ځای کیږی؟ او بیا به په څه ډول (طریقه) سره جوړ او پیوندیږی؟ داسی خو ډیر سخت او محال ښکاری داسی نه ده چه مونږ به جمع نه کړو خواره واره شوی هډوکی د ده.

---

## بَلٰى قٰدِرِيْنَ عَلٰٓى اَنْ نُّسَوِّيَ بَنَانَهٗ ۝۴

---

هو! (بلکه جمع به ئی کړو) حال دا چه قادر یو مونږ په دی باندی چه برابر تول کړو هډوکی او بندونه د ګوتو د ده.

**تفسير:** يعنى مونږ خو د ګوتى بندونه هم جوړولى شو. د بندونو تخصيص ښائى د دى لامله (له وجى) وى چه دا د بدن له اطرافو څخنى دى او د هر شيز تکميل د هغه په اطرافو باندى کيږى لکه چه څمونږ په محاورو کښى هم په داسى مواردو کښى داسى ويلى کيږى چه څما بندونه خوريږى. او له هغه شخه مراد ګرد (تول) بدن وى بله دا چه په بندونو کښى سره د هغو د وړوکىتوبه د صنعت رعايت زيات دى او عادتاً دا ډير سخت او نرى کار دى. نو څکه هغه شوک چه په سخت کار باندى قادر وى نو هغه په آسان کار باندى په اولىٰ طريقه سره قادر دى

بَلْ يُرِيْدُ الْاِنْسَانُ لِيَفْجُرَ اَمَامَهٗ ﴿۵﴾ يَسْـَٔلُ اَيَّانَ يَوْمُ الْقِيٰمَةِ ﴿۶﴾

بلکه اراده لرى (کافر) انسان چه دروغ ووائى (په هغه شيز باندى چه) په مخ کښى د ده دى (له قيامت او حسابه) پوښتنه کوى (کافر انسان استهزاءً چه) کله به وى (ورځ د) قيامت (شيخ الهند رحمة الله عليه د دى آيت ترجمه داسى کړى ده «بلکه غواړى انسان چه بى حيائى وکړى د ده (يا پخپل) مخ کښى (يعنى ګناه وکړى اوس يا په راتلونکى زمانه کښى) پوښتنه کوى کله به وى قيامت»).

**تفسير:** يعنى هغه خلق چه له قيامت شخه انکار کوى ـ او دوهم څلى ژوندون محال ګنى ـ د هغه سبب دا نه دى چه دا خبره ډيره مشکله ده ـ او د الله تعالىٰ کامل قدرت او نښى ښکاره نه دى ـ بلکه بنى آدم غواړى چه د قيامت له راتګه پخوا پخپل راتلونکى عمر کښى چه پاتى دى بالکل بيباک او بىپروا شى او په فسوقو او فجورو کښى مشغول پاتى وى. که چيرى د قيامت اقرار وکړى او د اعمالو د حساب او کتاب ويره ئى په زړه کښى څاى ونيسى نو په فسق او فجور کښى دومره بى حيائى او بيباکى نشى کولى نو څکه له داسى خيال شخه ئى زړه تل په ډډه ګرځى چه ترى عيش منغض نشى او په لذت کښى ئى شه خلل ونه لويږى. بلکه د استهزاء او تعنت او د سپين سترګى له مخى پوښتنى کوى چه ښه خانه! هغه ستاسى قيامت به کله راځى؟ که په رښتيا سره راتلونکى وى نو مياشت او کال او نيته ئى په ښکاره ډول (طريقه) سره راوښيه!.

فَاِذَا بَرِقَ الْبَصَرُ ﴿۷﴾ وَخَسَفَ الْقَمَرُ ﴿۸﴾

کله چه خړى متحيرى شى سترګى له هيبته او توره شى سپوږمى (رڼا (رڼرا) ئى لاړه شى).

**تفسیر:** یعنی د حق تعالیٰ د جلالی تجلی له سببه سترګی تیغی وخیژی او د حیرت او ویری لامله (له وجی) ئی سترګی خړی پاتی شی او لمر به هم سر ته ډیر نږدی راشی او سپوږمی بی نوره شی سپوږمی ئی ځکه جلا (جدا) ذکر کړه چه عربو د قمری حساب لامله (له وجی) هغی ته په ډیر زیات اهتمام سره کتل ـ او د هغی له احواله به تل خبر ؤ.

وَجُمِعَ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ﴿٩﴾ يَقُولُ الْإِنسَانُ يَوْمَئِذٍ أَيْنَ الْمَفَرُّ ﴿١٠﴾ كَلَّا لَا وَزَرَ ﴿١١﴾ إِلَىٰ رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ الْمُسْتَقَرُّ ﴿١٢﴾

او جمعه شی لمر او سپوږمی (له طرفه د مغربه په قیامت کښی یا جمع شی په تور والی کښی په تلو د رڼا (رڼرا) د دواړو سره یعنی په بی نوری او تت والی کښی به دواړه سره شریک او مله وی). نو وبه وائی (کافر) انسان په دغه ورځی کښی چیرته ځای د تیښتی شته؟ نه دی مناسب طلب د تیښتی نشته ځای د پناه خاص (مشیت د) رب ستا ته په دغی ورځی کښی ځای د قرار د خلقو دی (نو حساب ورسره کړ شی او جزاء ورکړه شی).

**تفسیر:** یعنی اوس خو وائی چه هغه ورځ چیری ده؟ او په هغه وقت کښی به له ویری بدحواس کیږی او داسی به وائی چه نن زه چیری وتښتم؟ او په کوم ځای کښی پټ شم؟ نو داسی ارشاد به کیږی چه نن نه د تښتیدلو موقع ده او نه د پوښتنی وقت نن هیڅ یو طاقت هم تاسی نشی خلاصولی او نه پناه درکولی شی نن ګرد (تول) د خپل پروردګار په مخ کښی حاضریږی او د هغه د عدل او انصاف په مخ کښی ودریږی او هغه هره فیصله چه وغواړی د هر چا په حق کښی ئی کوی.

يُنَبَّأُ الْإِنسَانُ يَوْمَئِذٍ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ ﴿١٣﴾

خبر به کړ شی انسان په دغی ورځی (د قیامت) کښی په هغو (اعمالو) چه مخ کښی ئی لیږلی دی (نیک وی که بد) او (په هغو اعمالو چه) وروسته ئی پری ایښی وی (نیک وی که بد).

**تفسیر:** یعنی ګرد (تول) پخوانی او وروستنی اعمال ښه وی که بد وی هغه ته ورښکاره ګندیږی (ښکاریږی) او پری پوهیږی.

بَلِ الْاِنْسَانُ عَلٰى نَفْسِهٖ بَصِيْرَةٌ ﴿١٤﴾ وَّلَوْ اَلْقٰى مَعَاذِيْرَهٗ ﴿١٥﴾

بلکه انسان په ځان خپل باندې حجت ليدونکې شاهد دی که چيرته وړاندې کړي عذرونه خپل (قبول به نشي).

**تفسير:** حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليکي «يعني انسان که پخپلو احوالو باندې غور وکړي نو د خپل رب په وحدانيت به او په دې باندې چه د ګردو (تولو) ورتګ د ده په لوري دی وپوهيږي. که څوک ووائي چه زه پرې نه يم پوهيدلی نو دا ګردي (تولي) به پلمې (تدبيرونه) او بهانې وي» خو زياترو مفسرينو د دی تعلق له ﴿ يُنَبَّؤُا الْاِنْسَانُ يَوْمَئِذٍ ﴾ الآية - سره اخيستی دی يعني په ورښولو باندې هم موقوف نه دی. انسان به پخپل احوال باندې پخپله مطلع وي که څه د طبيعت په اقتضاء سره دوی هلته هم بهانې جوړې کړي - او راز راز (قسم قسم) حيلې وړوړاندې کړي - لکه چه کافران به وائي ﴿ وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِيْنَ ﴾ بلکه دلته په دنيا کښې هم هغه انسان چه د هغه ضمير بالکل مسخ شوی نه وي پخپل حال باندې په ښه دول (طريقه) سره پوهيږي. اګر که د نورو په مخ کښې حيلې او بهانې جوړې کړي او د هغه په مخالفت کښې دير کوښښ وکړي. کله چه به جبريل محمد صلى الله عليه وسلم ته وحي لوسته نو ده به ژر ژر ورسره لوسته چه هير ئې نشي او په دير مشقت کښې ؤ نو الله فرمائي چه:

لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهٖ ﴿١٦﴾ اِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهٗ وَقُرْاٰنَهٗ ﴿١٧﴾ فَاِذَا قَرَاْنٰهُ فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَهٗ ﴿١٨﴾ ثُمَّ اِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهٗ ﴿١٩﴾

مه خوځوه په دی (قرآن) سره (ای محمده ﷺ پخوا له وحي) ژبه خپله چه تعجيل به کوی په دی (قرائت سره) بيشکه پر مونږ باندې دی جمع کول ئې (په سينه ستا کښې) او لوستل ئې (په ژبه ستا) بيا مو کله چه ولوست دا (قرآن په ژبې د پرښتې) نو متابعت کوه ته د لوستلو د ده (غوږ ورته نيسه) بيا بيشکه په مونږ باندې دی ښکاره بيانول د هغه (په اعتبار د فهم سره).

**تفسير:** لکه چه مو وليکل ړومبی به کله چه حضرت جبريل عليه السلام د الله تعالىٰ له لوري د قرآن وحي راوړه د جبريل عليه السلام له لوستلو سره به يو ځای ځمونږ رسول اکرم صلى الله عليه وسلم هم هغه لوسته چه ژر ئې ياد او زده ئې کړي او د جبريل عليه السلام له تللو څخه وروسته وحي ئې په ښه دول (طريقه) په ياد پاتې وي. مګر په دې صورت کښې دوی ته دير تکليف پيښيده کله به چه دوی هغه ړومبی کلمه لوستله دوهمه کلمه به د دوی په فهم کښې په ښه دول

(طریقه) سره نه راتله ـ او د هغو په پوهیدلو کښې به هم دوی ته لږ ډیر دقت پیښیده نو ځکه الله تعالیٰ وفرمایل چه په دی وقت کښې ستا د ژبې د خوځولو او لوستلو هیڅ ضرورت نشته تاسې بالکل د زړه له کومې د وحی اوریدلو ته متوجه شئ! او داسې اندیښنه مه کوئ! چه دا به می نه یادیږی ـ او بیا به ئې څرنګه ولولم؟ او خلقو ته به ئې په څه ډول (طریقه) وپوهوم؟ ـ د هغو ګردو (تولو) تورو ستاسو په تتر (سینه) کښې حرف په حرف تولول او ستاسې له ژبې څخه د باندې راایستل ـ او په خلقو ئې لولول ځما کار دی کله چه پرښته پاک قرآن ځما له لوری تاسې ته ولولی ـ نو تاسې چپ اوسئ! ـ پوره او ښه ئې واورئ! ـ د هغه اوریدل د هغه یادول ـ او د هغه علومو او معارفو ورونه درخلاصول او ستاسې له ژبې څخه نورو ته د هغه رسؤل او روښانول ـ دا ګرد (تول) ځمونږ له کارونو څخنې دی. وروسته له دی څخه رسول الله صلی الله علیه وسلم له جبریل علیه السلام سره یو ځای لوستل پری ښودل. نو دا هم یوه معجزه شوه چه یو ځلی ګرده (توله) وحی له سره تر پایه پوری واوری ـ او یو توری ئې هم له خولې څخه ونه باسی ـ او نه ئې ضبط او ګردان کړی ـ خو د پرښتې له ورتګ څخه وروسته پوره وحی لفظ په لفظ په پوره ترتیب سره بې له کومې فتحې او ضمې او نور د تزئید او تنقیص ولولی ـ او وئې لولوی ـ او وئې پوهوی دا په دی دنیا کښې یوه وړوکې نمونه له ﴿ يُنَبَّؤُا الْإِنْسَانُ يَوْمَئِذٍۢ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ ﴾ څخه ده یعنی څرنګه چه الله تعالیٰ په دی قادر دی چه خپله وحی د پرښتې له ورتګه وروسته په پوره ترتیب سره حرف په حرف پرته (علاوه) له کومې ادنیٰ خطاء او تیروتو د خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم په تتر (سینه) کښې تولوی ـ نو آیا هغه په دی باندی قادر نه دی چه د بندګانو پخوانی او وروستنی هغه ګردی (تولی) چاری چه ښائی ځینی ئې د هغوی د کوونکی له فکره هم وتلی وی ـ ګرد (تول) سره تول کړی او په یوه وقت کښې هغه د دوی په مخ کښې وروړاندی کړی او په هغه باندی هغوی ګرد (تول) سره ښه وپوهوی. او هم داسې د هدوکی منتشر ذرات او رژیدلی بخرکی سره راتول کړی؟ او بیا له نوی سره هغه ړومبنی انسان ورځنی پیدا کړی؟ بیشکه هغه الله اکرم شانه واعظم برهانه له دی څخه لا په لویو کارونو باندی هم قادر دی.

كَلَّا بَلْ تُحِبُّونَ الْعَاجِلَةَ ﴿٢٠﴾ وَتَذَرُونَ الْآخِرَةَ ﴿٢١﴾

نه دی داسې (لکه چه انکار کوی کفار له بعثه) بلکه خوښوئ تاسې ځغلیدونکې (ژر فانی کیدونکی دنیا) او پریږدی تاسې آخرت (چه باقی او وروسته راتلونکی دی او د هغه دپاره هیڅ عمل نه کوئ)

**تفسیر:** یعنی ستاسې دا د قیامت او د نورو حقائقو انکار کول هیڅ یو په کوم یوه صحیح دلیل باندی مبنی نه دی بلکه د دی سبب د دنیا انهماک دی. کله چه دنیا نقدی او ژر رسیدونکی شی دی نو ځکه ئې تاسې غواړئ. آخرت تاسې پور (قرض) ګنئ او پریږدئ ئې او

وایئ چه د هغه رارسیدل لری دی. د انسان په طبیعت کښی ژر غوښتل او جلتبازی داخله ده ـ لکه چه د جزء ۱۷ انبیاء په دریمه رکوع ۳۷ آیت ځمونږ دغه متبرک تفسیر کښی مونږ داسی یو آیت لولو ﴿خُلِقَ الْإِنسَانُ مِنْ عَجَلٍ﴾ فرق دومره دی چه نیکان د ښو شیانو په حاصلولو کښی جلتی کوی چه د هغه یو مثال اوس په ﴿لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ﴾ تیر شو. او بدان هغه شی غوره کوی چه ژر ئی په لاس ورځی اگر که د هغه نتیجه هلاک هم وی.

وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ ﴿۲۲﴾ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴿۲۳﴾

ځینی مخونه (یعنی د مؤمنانو به) په دغی ورځی (د قیامت) کښی ښائسته تازه روښانه وی خاص ذات د رب خپل ته به کتونکی وی.

**تفسیر:** دا د آخرت بیان دی یعنی د مؤمنانو څیری به په دی ورځی کښی ډیری روښانه ځلیدونکی تر او تازه او ډیری خوښی او بشاشی وی. او د دوی سترگی به د حقیقی محبوب په لقاء او کتلو سره رنی وی. له قرآن کریم او متواترؤ احادیثو څخه په یقینی ډول (طریقه) سره معلوم شوی دی چه په آخرت کښی به د الله تعالیٰ لیدنه وی ـ خو گمراهان له دی څخه منکر دی ـ ځکه چه دا نعمت د هغوی په برخه کښی نه دی. **اللّٰهم لاتحرمنامن هذه النعمة التی لیس فوقها نعمة**

وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ بَاسِرَةٌ ﴿۲۴﴾ تَظُنُّ أَن يُفْعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ ﴿۲۵﴾
كَلَّا إِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِيَ ﴿۲۶﴾

او ځینی مخونه (یعنی د کفارو) په دغی ورځی (د قیامت) کښی به تریو بدخیره وی یقین به کوی چه کاوه شی واقع کیږی په دغو (مخونو) باندی دوی ته بلا لویه چه ماتوونکی وی هډوکی د شا لره نه ده داسی (چه دنیا خوښوی پر آخرت) کله چه ورسیږی (سا) هډوکی د ستونی ته.

**تفسیر:** یعنی باور لری چه هغه ناکاره معامله کیدونکی ده او هغه عذاب د گاللو (تیرولو) دی چه بالکل به ملا ماتوونکی وی.

﴿كَلَّا إِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِيَ﴾ ـ نه ده داسی چه دنیا خوښوی پر آخرت کله چه ورسیږی سا هډوکی د ستونی ته)

یعنی آخرت مه لری گڼئ ځکه چه موت د دی سفر ړومبی منزل دی چه هغه ډیر نژدی له هم دی

ځایه د نورو منزلونو په تللو باندی شروع کیږی تر څو چه وروستنی منزل ته ورسیږی ګواکی د هر سړی مرګ هغه لره د لوئی ورځی (قیامت) یوه وړوکی نمونه ده هر کله چه د مریض روح ګرد (تول) سره غونډ شی او چنغرک هډوکی د تتر (سینی) او ورمیږ ته ورسیږی ـ او سا ئی په مری کښی ونښلی ـ نو وپوهیږه چه د آخرت منزل ئی شروع شو.

## وَقِيلَ مَنْ ۜ رَاقٍ ﴿٢٧﴾ وَظَنَّ أَنَّهُ الْفِرَاقُ ﴿٢٨﴾

او وبه ویلی شی (یعنی وبه وائی هغه څوک چه چاپیر له مریضه دی) څوک دی دم کوونکی (په هغه رنځور باندی چه جوړ شی او روح ئی بیرته ور وګرځی) او یقین کړی هغه مریض) چه بیشکه په ده (باندی راغلی) دی وقت د فراق جدائی (له دنیا او خپلوانو).

**تفسیر:** د داسی مایوسی په وقت کښی د طبیبانو او ډاکټرانو له لاسه هیڅ شی نه وی پوره کله چه خلق له ظاهری علاج او تدبیر څخه عاجز شی نو د دم او دعاء ـ تعویذ په فکر کښی لویږی او یو له بل سره وائی «خانه! کوم داسی ښه سړی راولئ چه په دی رنځور څه دم او دعاء وکړی. ګوندی وی چه جوړ شی ځینو اسلافو ویلی دی چه «من راق» د پرښتو وینا ده چه له ملک الموت سره د روح د قبضولو دپاره راځی او له دوی سره داسی وائی چه د دی مړی سا څوک وباسی او وړی ئی؟ د رحمت پرښتی؟ که د عذاب؟ نو په دی تقدیر سره (راقی) له (رقی) څخه مشتق ګڼه کیږی چه معنی پاس ختل دی او د (رقیه) څخه به نه وی چه معنی ئی دم او دعاء او توتکه او افسون دی.

﴿ وَظَنَّ أَنَّهُ الْفِرَاقُ ﴾ ـ او یقین کړی هغه محتضر چه بیشکه په ده باندی راغلی دی وقت د فراق جدائی له دنیا او خپلوانو) یعنی مړ کیدونکی به وپوهیږی چه د دی اوس له ګردو (تولو) عزیزانو او اقاربو او محبوبو او مألوفو شیانو څخه بیلیدونکی دی. یا ئی دا مطلب چه سا ئی له بدنه تلونکی ده.

## وَالْتَفَّتِ السَّاقُ بِالسَّاقِ ﴿٢٩﴾

او تاویږی یوه پنډی (د ده) له بلی پنډی (د ده) سره (له هیبته د مرګ).

**تفسیر:** یعنی په ځینو اوقاتو کښی د موت د سکراتو لامله (له وجی) یوه پنډی له بلی پنډی سره لګیږی. او هم د بدن د لاندنی برخی څخه د روح د تعلق له منقطع کیدلو څخه وروسته د پنډیو خوځول او یوه له بلی څخه بیلول به د ده په واک (اختیار) کښی نه پاتی کیږی نو ځکه یوه

پنډی له بلی پنډی څخه بیږ‌واکه لویږی. ځینی اسلاف وائی چه د عربو په محاورو کښی «ساق» کنایه ده له سخت مصیبت څخه ـ نو په دی تقدیر به د دی آیت ترجمه داسی کیږی. «یوه سختی به له بلی سختی سره یو ځای کیږی» ځکه چه مړ کیدونکی ته په دی وقت کښی دوه سختی وروړاندی کیږی یوه دا چه له دنیا ځنی داسی درومی چه مال او اسباب ـ اهل او عیال ـ کور او کهول ـ جاه او حشم ګرد (تول) ځنی پاتی کیږی ـ غلیمان پری خوشیږی او پیغورونه ورکوی ـ او خپلوان ئی خفه کیږی ـ او په رنځ او خپګان کښی لویږی. بله ئی له دی ځنی ډیره لویه او ویروونکی ده چه هغه د قبر او آخرت هسی پیښی او احوال دی چه د هغه کیفیت په بیان نشی راتلی یعنی سختی د دنیا له سختی د آخرت سره یو ځای کیږی.

إِلَىٰ رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ الْمَسَاقُ ﴿٣٠﴾

په لوری د رب ستا په دغی ورځی کښی ورتله دی (د تولو مخلوقاتو لپاره د مجازاتو).

**تفسیر:** یعنی د آخرت د سفر ابتداء له دی ځای ځنی ده. ګواکی اوس د بنده راښکوول د خپل پروردګار په لوری شروع شو مګر افسوس چه له خپل غفلت او حماقت څخه ئی د سفر هیڅ سامان تراوسه پوری نه دی جوړ کړی او نه د دی اوږده منزل لپاره کومه توښه له ځان سره لری.

فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلَّىٰ ﴿٣١﴾ وَلَٰكِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿٣٢﴾ ثُمَّ ذَهَبَ إِلَىٰ أَهْلِهِ يَتَمَطَّىٰ ﴿٣٣﴾

بیا یقین ونه کړ (په مؤمن به باندی) او نه ئی لمونځ وکړ مګر دروغجن ئی کړ (قرآن لره) او مخ ئی وګرځاو (له ایمانه) بیا لاړ اهل خپل ته (له مجلس نه) په تکبر سره.

**تفسیر:** یعنی د رښتین ګڼلو او باور لرلو په ځای پیغمبران دروغجنوی ـ او د لمانځه کولو او د الله تعالیٰ په لوری د متوجه کیدلو په ځای تل له هغه ځنی غاړه غړوی ـ او په دی باندی یواځی اکتفا نه کوی بلکه په خپل تکبر او غرور د خپلو متعلقینو او خپلوانو په لوری ځی ـ او داسی راښکاروی چه لکه کوم ښه لوی کار او ډیره میرانه (بهادری) او د پوهنی کار ئی کړی دی.

أَوْلَىٰ لَكَ فَأَوْلَىٰ ﴿٣٤﴾ ثُمَّ أَوْلَىٰ لَكَ فَأَوْلَىٰ ﴿٣٥﴾

وړ لایقه ده تاته (ای کافر انسانه هغه شی چه بد ئی بولی سختی د مرګ) پس وړ لایقه ده (هغه شی چه بد ئی بولی چه سختی د قبر ده) بیا وړ لایقه ده تا لره) هغه شی چه بد ئی بولی چه سختی د ورځی د قیامت ده) پس وړ لایقه ده (تا لره هغه شی چه بد ئی بولی چه همیشه عذابیدل ستا دی په دوزخ کښی).

**تفسیر:** یعنی ای بدبخته! اوس ستا د هلاک، افسوس او کمبختی وار دی. یو ځلی نه بلکه څو څو ځلی اوس پاتی خرابی پر خرابی او تباهی پر تباهی ده پرته (علاوه) له تانه به بل هیڅوک د الله تعالیٰ د نوی نوی سزا وړ (لائق) او مستحق نه وی.

**تنبیه:** ښائی اوله خرابی په باور نه لرلو او لمونځ نه کولو او دوهمه په بل یو لوی څغردوالی (ضد) باندی چه دروغجنول او غاړه غړول دی او دریمه او څلورمه د دی دواړو امورو ځنی په هره یوه باندی چه دی ئی د افتخار وړ (لائق) ګنی بنا دی لکه چه د هغه په لوری په ﴿ ثُمَّ ذَهَبَ إِلَىٰ أَهْلِهِ يَتَمَطَّىٰ ﴾ کښی اشاره ده والله اعلم.

أَيَحْسَبُ الْإِنسَانُ أَن يُتْرَكَ سُدًى ﴿٣٦﴾

آیا ګمان کوی (کافر) انسان چه پری به ښود شی دی چتی (بیکاره) بی قیده مهمله بیکاره (په دنیا او عقبا کښی مکلف به نه شی په احکامو د ده).

**تفسیر:** یعنی آیا بنی آدم داسی ګنی چه دی به هم داسی چتی (فضول) بیکاره او مهمل پری ښوده شی؟ او د امر او نهی هیڅ یو قید به په ده باندی نه وی؟ یا له مرینی څخه وروسته به بیا نه ژوندی کیږی؟ او له ده څخه به د نیکیو او د بدیو ګرد (تول) شمیر نه اخیست کیږی؟ او هیڅ حساب او کتاب به ورسره نه کیږی.

أَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِّن مَّنِيٍّ يُمْنَىٰ ﴿٣٧﴾ ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً فَخَلَقَ فَسَوَّىٰ ﴿٣٨﴾
فَجَعَلَ مِنْهُ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْأُنثَىٰ ﴿٣٩﴾ أَلَيْسَ ذَٰلِكَ بِقَادِرٍ عَلَىٰ
أَن يُحْيِيَ الْمَوْتَىٰ ﴿٤٠﴾

آیا نه ؤ دغه (انسان اول) یو څاڅکی له منی څخه چه تویوه شی (اچوه شی پر رحمونو د ښځو کښی). بیا و دی یوه توټه د وینو نو پیدا کړ الله (اندامونه ئی) پس برابر کړ (صورت ئی او روح ئی پکښی وپوکلو) نو پیدا کړ له هغه (اوبو د منی) څخه جوړه (دوه صنفه) نارینه او ښځه آیا نه دی دغه (ذات) قدرت لرونکی کوونکی د دغو افعالو قادر په دی باندی چه ژوندی کړی مړی (بلکه ښه قادر دی).

**تفسیر:** یعنی انسان له نطفی څخنی د غوټه شویو وینو په شکل کرځی بیا الله تعالیٰ د دی د پیدایښت ګرد (ټول) مراتب پوره کوی او انسان تری جوړوی ـ او ټول ظاهری اعضاء او باطنی قوتونه ئی برابروی ـ او د یوی بیځانی نطفی څخنی یو عاقل انسان جوړوی ـ او هم له هم دی نطفی څخنی دوه دوله (قسمه) بنی آدم پیدا کوی چه د دوی د هر یو ظاهری او باطنی خصوصیات سره بیل وی. آیا هغه مطلق قادر چه له اوله ئی ګرد (ټول) خلق په داسی یو حکمت او قدرت سره پیدا کوی بیا په دی باندی قادر نه دی چه دوی بیا راژوندی کړی؟ «**سبحانک اللّٰهم فبلیٰ!**» پاک دی ستا ذات ای اله ولی به ئی نه پیدا کوی! ته بیشکه قادر ئی.

## تمت سورة القیامة بفضل الله تعالیٰ ومنه وکرمه

سورة الدهر (سورة الانسان) مدنیة وهی (۳۱) آیة ورکوعان رقمها (۷٦)

تسلسلهاحسب النزول (۹۸) نزلت بعد سورة الرحمٰن.

د «الدهر» د «الانسان» سورت مکی دی (۳۱) آیته (۲) رکوع لری په تلاوت کښی (۷٦) او په نزول کښی (۹۸) سورت دی وروسته د «الرحمٰن» له سورت څخه نازل شوی دی.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ○

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

هَلۡ اَتٰی عَلَی الۡاِنۡسَانِ حِیۡنٌ مِّنَ الدَّهۡرِ لَمۡ یَکُنۡ شَیۡـًٔا مَّذۡکُوۡرًا ①

آیا راغلی دی (یعنی په تحقیق سره راغلی دی) پر انسان څه وقت له زمانی څخه چه نه و دی یو شی یاد کړی شوی (په یوه نامه سره).

**تفسیر:** بیشکه پر انسان باندی داسی یو وقت تیر شوی دی چه هیڅ نوم او نښه ئی نه وه بلکه یو غیر مذکور په انسانیت ځیز و. او یو جز وو له اجزاؤ د عناصرو او د نطفی بیا ئی څومره مدت طی کړ چه د نطفی په شکل راووت ـ دا حال ئی هم د دی د موجوده شرافت او کرامت لامله (له وجی) د ویلو وړ (لایق) نه دی او نه ښائی چه پری ژبه وخوځوله شی.

إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِن نُّطْفَةٍ أَمْشَاجٍ

بیشکه پیدا کړی دی مونږ انسان له نطفی څخه چه ګډوده شوی ده (د نر او د ښځی)

**تفسیر:** یعنی د نارینه او د ښځی د دوو دولو (قسمونو) اوبو څخنی ئی پیدا کړ.
**تنبیه:** د (امشاج) معنی مخلوط دی نطفه د هغو غذاؤ خلاصه ده چه له مختلفو شیانو څخنی روغه ده نو ځکه د ښځی له اوبو څخه پرته (علاوه) یواځی همغه یو اوبو ته هم (امشاج) وایه شی. او پیدا کړ مونږ دغه انسان لره په دغه حال کښی چه:

نَّبْتَلِيهِ فَجَعَلْنَاهُ سَمِيعًا بَصِيرًا ﴿٢﴾ إِنَّا هَدَيْنَاهُ السَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرًا وَإِمَّا كَفُورًا ﴿٣﴾

ازمایو ئی نو وموګرځو مونږ دغه (انسان) اوریدونکی بیشکه مونږ ورښوولی ده دغه (انسان) ته سمه لاره (په لیږلو د رسولانو او په دلائلو د عقل سره) یا نه وو دی شکر کوونکی او یا به وی دی ناشکره.

**تفسیر:** یعنی له نطفی څخنی د وینی غوټه او له هغی څخنی ئی د غوښی یوه ټوټه جوړه کړه هم دا راز (قسم) له څو څو ځلی اړولو او ګرځولو څخه ئی هغه دی درجی ته ورساؤ چه دی پخپلو غوږونو سره اوری او په سترګو سره وینی او له هسی قوتونو څخه کار اخلی چه بل کوم حیوان له هغو څخنی نشی کار اخیستی. ګواکی نور ګرد (ټول) د ده په مخ کښی کانه او ړانده دی.
**تنبیه:** د «نبتلیه» معنی اکثرو مفسرینو (امتحان) او ازموینه اخیستی ده د بنی آدم له پیدایښته دا غرض دی چه دی د الله تعالیٰ په احکامو ـ امر ـ نهی او نورو مخاطب شی او امتحان تری واخیست شی او ولیده شی چه دی تر کومی اندازی پوری د خپل الله تعالیٰ د احکامو تعمیل او خپل اخلاص او وفاداری څرګندوی (ښکاره کوی)؟ نو ځکه هغه ته ئی د آوریدلو ـ پوهیدلو او

لیدلو قوتونه وروښل چه پر هغو باندی د شرعی تکالیفو مدار دی.

﴿ إِنَّا هَدَيْنَٰهُ ﴾ الآیة - بیشکه مونږ ورښوولی ده انسان ته سمه لاره یا به وی دی شکر کوونکی او یا به وی ناشکره) یعنی ړومبی ئی د اصلی فطرت او پیدائشی عقل او پوه ځنی - بیا ئی د عقلیه او نقلیه دلائلو په وسیله هغه ته د نیکی لاره ورروښووده چه د دی ښوونی اقتضاء داسی ده چه ښائی ګرد (تول) انسانان په یوه سمه لاره باندی لاړ شی خو د شاؤخوا د حالاتو لامله (له وجی) او د خارجی عواملو اغیزی (اثر) او د نورو عوارضو له سببه ګرد (تول) په یوه لاره باندی پاتی نشول. ځینو الله تعالیٰ ومانه او حق ئی وپیژنده - او ځینو ناشکری او ناحقی ته ملا وتړله وروسته له دی نه الله اکرم شانه واعظم برهانه د دی دواړو د پای (آخر) او انجام ذکر دغسی فرمائی:

إِنَّآ أَعْتَدْنَا لِلْكَٰفِرِينَ سَلَٰسِلَا۟ وَأَغْلَٰلًا وَسَعِيرًا ۝٤

بیشکه مونږ تیار کړی مو دی کافرانو ته ځنځیرونه او طوقونه او تود اور (لمبی وهونکی چه تل به په کښی سوځی).

**تفسیر:** یعنی هغو خلقو چه د رسمونو او رواجونو او اوهامو او ظنونو په ځنځیرونو کښی ځانونه تړلی دی او بی د الله تعالیٰ له اقتدار او حکومته ئی د نورو د حکومت او اقتدار طوقونه او غاړکی له خپلو غاړو ځنی نه دی ایستلی بلکه د حق او د حق د عاملینو په خلاف د دښمنی او د جګړی د اورونو په لګولو کښی خپل عمر تیروی. او کله په تیروتلو سره هم د الله تعالیٰ د نعمتونو شکر نه اداء کوی - او نه ئی په زړه کوی نو داسی خلقو ته په آخرت کښی د دوزخ طوقونه او غاړکی - ځنځیرونه او ډیر سخت سوځوونکی اور تیار دی.

إِنَّ ٱلْأَبْرَارَ يَشْرَبُونَ مِن كَأْسٍ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُورًا ۝٥
عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا عِبَادُ ٱللَّهِ

بیشکه ابرار نیکان څښی (په جنت کښی) له جامونو د شرابو ځنی چه وی ګډ له هغو سره (جنتی) کافور. چینه چه څښی به له هغی څخه (نیک) بندګان د الله.

**تفسیر:** یعنی د شرابو هسی جامونه به څښی چه لږ څه کافور به په کښی ګډ وی دا کافور د دی دنیا د کافورو په شان نه دی بلکه د جنت د یوی خاصی چینی نوم دی چه د الله تعالیٰ له

لورى په خاص دول (طريقه) د الله تعالىٰ مخصوصو او مقربو بندگانو ته د هغه له اوبو څخه ورکولی کیږی. ښائی چه د دی سوړوالی ـ ښه رائحه او ورم ـ مفرح ـ خاصیت ـ او د تک سپین رنگ لامله (له وجی) هغه ته کافور وایه شی.

يُفَجِّرُونَهَا تَفْجِيرًا ۝٦ يُوفُونَ بِالنَّذْرِ

چه بیائی به (مؤمنان) دغی (چینی) لره (هر چیرته چه ئی خوښه وی په بیول) وفا کوی (ابرار) په (هغه) نذر سره (چه ئی واجب کړی وی په طاعت د الله کښی پر ځانونو خپلو باندی)

**تفسیر:** یعنی دا چینه د هغو بندگانو په واک (قبضه) او اختیار ده چه په هر لوری دوی اشاره وکړی د دی د اوبو ویالی به په همغه لوری بهیږی. ځینی وائی چه د دی چینی اصلی منبع به د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په لوړه (اوچته) مانی کښی وی چه له هغه ځایه به د گردو (تولو) انبیاؤ ـ اولیاؤ ـ صلحاؤ او مؤمنینو مانیو ته د هغی ویالی وبهیږی والله اعلم وروسته له دی نه اکرم شانه واعظم برهانه د ابرارو د خصائلو داسی بیان فرمائی.

﴿ يُوفُونَ بِالنَّذْرِ ﴾ ـ وفا کوی ابرار په هغه نذر سره چه ئی واجب کړی وی په طاعت د الله پر ځانونو خپلو)

یعنی هغه نذرونه چه پخپلو ځانونو باندی ئی منلی وی اداء کوی ئی ښکاره ده کله چه پخپل ځان باندی لازم کړی شیز پوره کاؤ شی نو هغه خبری چه د الله تعالیٰ له لوری لازمی شوی دی څرنگه به پری ښودی شی؟.

وَيَخَافُونَ يَوْمًا كَانَ شَرُّهُ مُسْتَطِيرًا ۝٧

او ویریږی (ابرار) له هغی ورځی چه شر ئی ښکاره او تیت (څرگند) دی

**تفسیر:** یعنی د دی ورځی سختی او خرابی به درجه په درجه پر تولو عامه او گردو(تولو) لره نیوونکی وی او هیڅوک به په کلی دول (طریقه) له هغه ځنی محفوظ نه وی. الا من شاء الله!

وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا ۝٨

او (ابرار) ورکوی طعام خواړه پر محبت مینی د دغه (الله یا د طعام) مسکین اړ (مجبور) ته او یتیم پلار مړی ته او اسیر بندی ته.

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ په محبت کښې خپل طعام او خواږه سره له دی چه دی پخپله ورته اړ (مجبور) او محتاج دی او ډیر خواهش ئې ورته کیږی په ډیر اخلاص ـ شوق او ذوق سره مسکینانو ـ یتیمانو او بندیانو ته ئې ورکوی.

**تنبیه:** بندی عام دی مسلمان وی یا کافر. په حدیث کښې راغلی دی چه د بدر د بندیانو په نسبت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه «له هر مسلمان سره چه کوم بندی وی ښائی چه له هغه سره ښه سلوک وکړی!» لکه صحابه ؤ رضی الله تعالیٰ عنهم د دی حکم په تعمیل بندیانو ته له خپلو ځانونو ځنی ښه خواږه ورکول او حال دا چه هغه بندیان مسلمانان نه ؤ د مسلمان وررور حق خو له دی څخه هم لا زیات دی. که د «اسیر» په لفظ کښې لږ څه توسیع وکړه شی نو دا آیت مریبی او پور وړی (قرضداری) لره هم شامل کیدی شی ځکه چه هغوی هم یو راز (قسم) بندیان دی.

---

إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمْ جَزَاءً وَلَا شُكُورًا ﴿٩﴾
إِنَّا نَخَافُ مِن رَّبِّنَا يَوْمًا عَبُوسًا قَمْطَرِيرًا ﴿١٠﴾

---

(وائی ابرار) بیشکه چه مونږ طعام خواږه درکوو تاسی ته خاص دپاره (د ثواب) د الله نه غواړو مونږ له تاسی څخه جزاء بدل او نه شکر ایستل بیشکه مونږ ویریږو له ربه خپله له عذابه د ورځی تریو مخی (غمجنی) ډیری سختی تریو مخی نه

---

**تفسیر:** یعنی دا طعام او خواږه ورکوونکی به د حال په ژبی سره داسی ویونکی وی او که چیری مصلحت وی او لازم ئې وګڼی د قال په ژبی سره ئې هم ویلی شی.

﴿إِنَّا نَخَافُ﴾ بیشکه مونږ ویریږو له ربه خپله له عذابه د ورځی تریو مخی غمجنی ډیری سختی تریو مخی نه).

یعنی ولی به مونږ نورو ته طعام او خواږه نه ورکوو؟ او له خوړو ورکولو ځنی وروسته به ولی د بدل او شکریی هیله (ارزو) او امید ونه لرو چه مونږ له خپل پروردګاره او له هغی لوی ورځی څخه ویریدونکی یو چه هغه ورځ به ډیره غمجنه او سخته تریو تندی وی مونږ په ډیری مینی او اخلاص مستحقینو ته طعام او خواږه ورکوو او سره له هغه ویریږو چه آیا ځمونږ دا عمل به د الله تعالیٰ په دربار کښې منلی کیږی؟ که نه؟ نه چه د هغه په اخلاص او نورو شرائطو کښې څه لږتیا پاتی وی او بالعکس دا اعمال ځمونږ د ځان وبال نه شی.

فَوَقٰىهُمُ اللّٰهُ شَرَّ ذٰلِكَ الْيَوْمِ وَلَقّٰىهُمْ نَضْرَةً وَّسُرُوْرًا ۝۱۱

نو وبه ساتي دوی لره الله (په سبب د حسناتو د دوی) له شره سختي د دغې ورځې او ملاقي ور به کړي دوی ته تازګي او حسن د مخونو (او خوشالي د زړونو).

تفسير: يعني له هغه شي ځني چه دوی دير ويريدل الله تعالىٰ دوی له هغه ځني محفوظ او مأمون وساتل او د هغوی مخونو ته ئې ښائست او تازګي او زړونو ته ئې خوښي او سرور ورعطاء کړ.

وَجَزٰىهُمْ بِمَا صَبَرُوْا جَنَّةً وَّحَرِيْرًا ۝۱۲

او جزاء به ورکړي دوی ته (الله) په سبب د صبر د دوی (تول نعماء د) جنت او (جامې) وريښمينې.

تفسير: يعني کله چه دی خلقو د دنيا پر تنګسې او سختيو باندې صبر کاؤ ـ او له ګناهونو او معاصيو ځني ئې ځانونو ساتل او په طاعت او عبادت کښې قائم اوسيدل نو ځکه الله تعالىٰ د هغوی د آرام او راحت دپاره دوی ته د جنت ښه نعماء ـ اعلىٰ باغونه او فاخره لباسونه مرحمت کړل. اوس الله اکرم شانه واعظم برهانه د دغو جنتيانو يو بل ښه وضعيت داسې بيان فرمائي:

مُّتَّكِـِٕيْنَ فِيْهَا عَلَى الْاَرَآئِكِ ۚ لَا يَرَوْنَ فِيْهَا شَمْسًا وَّلَا زَمْهَرِيْرًا ۝۱۳

حال دا چه تکيه کوونکي به وي په هغه (جنت) کښې پر تختونو باندې د باچايانو او تولواکانو په ډول (طريقه) نه به ويني دوی هلته شمس لمر (ګرمي) او نه زمهرير (ساړه يا به نه ويني په دغه جنت کښې لمر سپوږمې چه رڼا (رڼرا) به ئې له بل څه وي).

تفسير: يعني د جنت موسم به دير معتدل او برابر وي نه د تودوخې او نه د يخني او نه به نور څه ربړ (زحمت) او تکليف هلته وي.

وَدَانِيَةً عَلَيْهِمْ ظِلٰلُهَا وَذُلِّلَتْ قُطُوْفُهَا تَذْلِيْلًا ۝۱۴

حال دا چه نژدې به وي پر دوی باندې سيورې (د ونو) د هغه او مسخرې

تیتی کړی شوی به وی میوی د هغو په مسخریدلو تیتیدلو سره (چه شوکول به ئی اسان وی).

**تفسیر:** یعنی د ونو څانگی د خپلو میوو سره دوی ته دیری نژدی کیږی او د هغوی میوی به ورځوړندی او د دوی په واک (اختیار) کښی به وی او جنتیان په هر حالت او هر ځای کښی چه وغواړی اعم له دی څخه چه ولاړ وی یا ناست یا ملاست بی له تکلفه هغه تولولی او شوکولی شی.
**تنبیه:** ښائی د ونو څانگی ئی دلته په ظلال سره تعبیر کړی وی یا به دا واقعی سیوری وی ځکه که د لمر رڼا (رنړا) هلته نشته بل راز (قسم) کومه رڼا (رنړا) خو به هرومرو (خامخا) هلته وی او د دی رڼا (رنړا) په سیوری کښی به جنتیان د ارام او تفریح دپاره به کینی والله اعلم

وَيُطَافُ عَلَيْهِم بِآنِيَةٍ مِّن فِضَّةٍ وَأَكْوَابٍ كَانَتْ قَوَارِيرَا۠ ﴿١٥﴾
قَوَارِيرَا۟ مِن فِضَّةٍ

او گرځولی به شی پر دغو (ابرارو) باندی (په دغه جنت کښی) جامونه له سپینو زرو او گلاسونه صراحی چه وی به (دغه ظروف) په شان د ښیښو هسی ښیښی چه له سپینو زرو به وی (صاف به وی د ښیښو په شان چه ظاهر به ئی له باطن او باطن به ئی له ظاهره ښکاری)

**تفسیر:** یعنی دا ظروف لوښی به په اصل کښی د سپینو زرو څخه جوړ وی او دیر سپین بی داغه او خوښی ښیونکی ـ او داسی صاف او شفاف او ځلیدونکی به وی چه لکه ښیښی غوندی به ښکاری او د هغه د منځ شیان به له باندی څخه له لری لیده کیږی.

قَدَّرُوهَا تَقْدِيرًا ﴿١٦﴾

په اندازه کړی به وی هغه (جامونه ساقیانو د جنت جنتیانو ته) اندازه کول.

**تفسیر:** یعنی یو جنتی هومره چه څښلو ته ضرورت لری او زړه ئی وغواړی په هغه میچ او اندازه سره به سم او برابر په هغه کښی شراب وی چه نه به تری لږیږی ـ او نه به تری زیاتیږی ـ یا په هره اندازه چه جنتیان پخپلو زړونو کښی تاکلی (مقرر کړی) او گرځولی وی بی له تزئید او بی له تنقیص سم د دوی له غوښتنی سره ورته وړاندی کیږی.

وَيُسْقَوْنَ فِيهَا كَأْسًا كَانَ مِزَاجُهَا زَنْجَبِيلًا ﴿١٧﴾

او ورڅښول کيږي به جنتيانو ته په جنت کښې جامونه د شرابو چه وي به ګډ له (پاکو شرابو د) هغه سره (لپاره د خوشبوئ جنتي) زنجبيل.

تفسير: يعني د شرابو جام يو هغه و چه د هغه ګډ جنتي کافور دی. دوهم ئې هغه دی چه زنجبيل (سوند) ورسره ګډوی مګر دا د دی دنيا زنجبيل او سوند ونه ګاڼه شي ځکه هغه يوه چينه ده چه «سلسبيل» نوميږي د سوند تأثير تود دی او په غريزيه حرارت کښې انتعاش پيدا کوی ـ او عرب هغه ډير خوښوی.
په هر حال سره په کوم خاص مناسبت سره دی چينی ته «زنجبيل» وائی. د نيکانو په جامونو کښې د هغه لږ څه ګډون کاوه شي په اصل کښې دا چينه لويو عالی مقامو مقربينو لره ده. والله اعلم.

عَيْنًا فِيهَا تُسَمَّىٰ سَلْسَبِيلًا ﴿١٨﴾

چينه په دغه (جنت کښې چه) نوم ئې ايښودلی شوی دی په سلسبيل سره (چه د حلقه آسانه لنيته تيريږی).

تفسير: د سلسبيل معنی صافي بهيدونکی اوبه دی. کذا في الموضح. او ځکه ورته «سلسبيل» وائی چه آسانه تيريږی له حلقه او ډيری لنيدنی او خونده وری دی په څښلو کښې او هر چيرته چه د جنتي زړه وغواړی همغلته ورته بهيږی.

وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُونَ ۚ

او ګرځي پر دغو جنتيانو باندی هلکان تل پاتي شوی (پخپل حال د ځوانی باندی).

تفسير: يعني تل به هلک پاتي کيږی يا به له جنتيانو څخه هيڅ نه اخيست کيږی او تل ترتله د هغوی په خدماتو کښې مشغول وی.

إِذَا رَأَيْتَهُمْ حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤًا مَّنثُورًا ﴿١٩﴾

کله چه ووینې ته دوی ګڼې به هغوی (په صفائی کښې) لکه مرغلرې خورې شوی.

**تفسیر:** یعنې پخپل حسن ـ جمال ـ صفائی ـ او ښائست سره په هر لورې ګرځی او داسې خوش منظر معلومیږی لکه چه د ډیرو ځلیدونکیو او ښائسته مرغلرو په شان پر ځمکې باندې خواره شوی وی. او تخصیص د «منثور» دپاره د دی دی چه دا ښائسته او ښې ښکاریږی له مرغلرو منظومو او پییلو شویو څخه.

وَإِذَا رَأَيْتَ ثَمَّ رَأَيْتَ نَعِيمًا وَمُلْكًا كَبِيرًا ﴿٢٠﴾

او هر کله چه وګورې ته دغه (جنت) ته نو وبه وینې ته نعمتونه (ډیر چه صفت ئې کیدی نشی) او ملک پاچائی لویه (لازواله چه انتهاء او زوال نه لری).

**تفسیر:** یعنې د جنت حال او احوال څه ووایه شی ـ که څوک ئې ووینې نو ور معلومیږی چه په جنت کښې به څه عظیم الشان نعمتونه او څومره لویه لازواله بیمثاله باچائی یوه معمولی او ادنیٰ جنتی ته ور په برخه کیږی رزقنا الله تعالیٰ منها بمنه و فضله.

عَالِيَهُمْ ثِيَابُ سُندُسٍ خُضْرٌ وَإِسْتَبْرَقٌ ۖ

د پاسه پر دوی باندې به کالی (جامې) د نریو وریښمو وی چه شنه به وی او د پریړو (غټو) وریښمو نه

**تفسیر:** یعنې نرې او پریړ (غټ) دوه دوله (قسمه) د وریښمو کالی (جامې) به جنتیانو ته ورکاوه کیږی.

وَحُلُّوا أَسَاوِرَ مِن فِضَّةٍ ۚ

او وابه غوسته شی (دوی ته) باهوګان له سپینو زرو.

**تفسیر:** په دی سورت کښې دری ځایه د سپینو زرو ـ د لوښیو ـ ګانو (زیوراتو) او نورو ذکر راغلی دی ـ په بل ځای کښې د سرو زرو ذکر شوی دی. ممکن دی چه دا هم وی او هغه هم وی. ځینو ته به دا ورکاؤ شی ـ او ځینو ته به هغه یا به کله دا او کله به هغه وروراندی کیږی.

وَسَقٰىهُمْ رَبُّهُمْ شَرَابًا طَهُوْرًا ﴿۲۱﴾

او ور وبه ښځي دغو (جنتيانو ته) رب د دوی شراب طهور (ښځناک ښه پاکيزه)

**تفسير:** يعني له ګردو (تولو) نعمتونو وروسته د شراب طهور يو جام به د حقيقي مالک له لوري ورکاوه شي چه نه په کښي نجاست وی او نه کدورت نه به ورسره څه درد او الم او نه به بدبوئي وی او د هغه له ښځلو ځني به زړه پاک او ګيډه صفا کيږي. له ښځلو څخه وروسته له بدن څخه به داسي عرق او خولي وځي چه د هغه ورمه او خوشبوئي به د مشکو په څير زړونه خوشوی.

اِنَّ هٰذَا كَانَ لَكُمْ جَزَآءً وَّكَانَ سَعْيُكُمْ مَّشْكُوْرًا ﴿۲۲﴾ اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ تَنْزِيْلًا ﴿۲۳﴾ فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ

(او وبه فرمائي الله دوی ته چه) بيشکه دغه (نعمتونه) ؤ تاسی لره جزاء بدل (د اعمالو ستاسی) او دی سعی عمل زيار (کوشش) ستاسی مشکور مقبول. بيشکه مونږ هم دا مونږ نازل کړی مو دی په تا باندی (ای محمده!) قرآن نازل کول نو صبر کوه حکم امر د رب خپل ته (په نصرت د تا).

**تفسير:** يعني د زيات اعزاز او اکرام او د زړونو د خوښي دپاره به ويلي شي چه دا ستاسی د اعمالو بدل دی ستاسی زيارونه (کوششونه) مقبول او مشکور او سعی مو ومنلي شوی - د دی زيري له آوريدلو ځني به جنتيان لا خوشيږي.

﴿اِنَّا نَحْنُ﴾ الآية - بيشکه مونږ نازله کړی مو دی په تا باندی ای محمده قرآن نازلول نو صبر کوه حکم امر د رب خپل ته په نصرت د تا)

چه ستا زړه مضبوط شي او خلق ورو ورو پخپلو ښو او بدو باندی ښه وپوهيږي او معلوم ئي کړی چه جنت د کومو اعمالو په وسيله موندل کيږي - که په داسي پوهولو سره هم ونه پوهيده او پخپل ضد او عناد کښي تينګ پاتي شو نو تاسی د خپل پروردګار په حکم باندی همغسی تينګ ودريږی او د وروستني فيصلي انتظار وکړئ.

وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ اٰثِمًا اَوْ كَفُوْرًا ﴿۲۴﴾

او مه منه خبره له دوی ځني د هيڅ يو ګنهګار او ناشکره (چه تا بولي کفر ته).

**تفسير:** يعني عتبه او وليد او د قريشو نور کفار تاسي ته دنيوي ترغيبونه درکوي او شنه باغونه درښيي او په دی تحريص ـ تطميع سره غواړی چه تاسي د تبليغ له فرضه واړوی ـ نو الله تعالیٰ تنبيه فرمائي چه تاسي د دوی په خبرو باندی مه تيروځي ځکه چه د ګنهګار ـ فاسق او ناشکر کافر له وينا منلو څخه پرته (علاوه) له نقصانه بل څه په لاس نه درځي نو د داسي شريرانو او بدبختانو خبرو ته غوږ نيول نه دی په کار.

وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ﴿۲۵﴾

او يادوه نوم د رب خپل صباح ګهيځ (سبا) او بيګا ماښام.

**تفسير:** يعني تل هغه پخپل زړه کښي ولره! په تيره بيا په دی دوو وقتونو کښي ئې هرومرو (خامخا) يادوه! ګردو (تولو) انديښنو علاج هم دا د الله تعالیٰ ذکر دی.

وَمِنَ الَّيْلِ فَاسْجُدْ لَهٗ وَسَبِّحْهُ لَيْلًا طَوِيْلًا ﴿۲٦﴾

او په څه برخه د شپي کښي نو سجده کوه هغه (الله) ته او نسبت د پاکي کوه دغه (الله) ته په شپه اوږده کښي (يعني تهجد کوه او)

**تفسير:** لمونځ وکړه! ښائي چه له دی ځني د مغرب او عشاء لمونځونه يا به تهجد مراد وی که له ﴿ وَمِنَ الَّيْلِ فَاسْجُدْ ﴾ څخه تهجد مراد وی نو دلته به له تسبيح ځني د هغه متبادره معنی اخيسته کيږی. يعني د شپي له لوری علاوه پر تهجد پر ډيرو تسبيحو او تهليلو کښي مشغول شئ! که له ړومبي «فاسجد» ځني د ماښام او ماسختن لمونځ مراد وی نو دلته به له تسبيح څخه تهجد مراد وی.

اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ يُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ وَيَذَرُوْنَ وَرَآءَهُمْ يَوْمًا ثَقِيْلًا ﴿۲۷﴾

بيشکه دا (خلق چه کفار دی) خوښوی ژر تيريدونکي (دنيا) او پريږدی وروسته له ځانه ورځ سخته (د عقبیٰ چه د هغي دپاره څه تياری او عمل نه

کوی).

**تفسیر:** یعنی دا خلق که ستاسی پند او هدایت نه منی د هغه سبب د دنیا مینه ده. کله چه دنیا یو ژر په لاس راتلونکی شیز دی دوی هم دا غواړی. او د قیامت له درنی ورځی شخه غافل شوی دی او هیڅ د هغه په فکر کښی نه دی لویدلی. بلکه د هغه په راتللو باندی باور هم نه لری او هسی ئی ګڼی کله چه مونږ ومرو او له خسا کیدلو شخه پس وراسته او تجزیه کیږو بیا به مو څوک راژوندی کوی؟ وروسته د دی پوښتنی جواب ورکوی.

نَحْنُ خَلَقْنٰهُمْ وَشَدَدْنَآ اَسْرَهُمْ ۚ وَاِذَا شِئْنَا بَدَّلْنَآ اَمْثَالَهُمْ تَبْدِيْلًا ﴿۲۸﴾

مونږ پیدا کړی مو دی دوی او بیا مو مضبوط کړل پیدایښت بندونه اندامونه د دوی او کله چه اراده وفرمایو بدل به راوړو مونږ امثال د دوی (په خلقت کښی) بدل.

**تفسیر:** یعنی اول مو تاسی پیدا کړی او ستاسی ګرد (تول) بندونه او اندامونه مو جوړ کړی دی نن ځمونږ هغه قدرت نه دی سلب شوی. هر کله چه مونږ وغواړو ستاسی دا موجوده ژوندون پائ (انجام) ته ورسوو او هم داسی یوه بله هستی بیا پیدا او ودرولی شو. یا دا مطلب که دا خلق ئی ونه منی نو مونږ قادر یو هر کله چه وغواړو د دوی په ځای به نور داسی سړی راولو چه ګرد (تول) سره به مطیع او فرمانبرداران وی او د دوی په شان به سرکشان نه وی.

اِنَّ هٰذِهٖ تَذْكِرَةٌ ۚ فَمَنْ شَآءَ اتَّخَذَ اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيْلًا ﴿۲۹﴾

بیشکه دغه (سورت) تذکره پند دی (خلقو لره) نو هر هغه څوک چه اراده کوی نیسی طرف د رب خپل ته لاره (په خیر او طاعت سره - پس و دی نیسی!).

**تفسیر:** یعنی په جبر او زور سره په دوی باندی د دی خبری منل ستاسی کار نه دی - د پاک قرآن په وسیله پند ورکوئ! وروسته له دی د هر چا اختیار دی هر څوک چه زړه ئی غواړی د خپل پروردګار تر خوشی پوری د رسیدلو لاره ځان ته جوړه کړی!.

وَمَا تَشَآءُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ ۗ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۳۰﴾

او اراده نشئ کولی تاسی (د هیڅ لاره د طاعت) مګر هغه چه اراده وفرمائی الله (تاسو ته) بیشکه الله دی (پر هر شی باندی) ښه عالم دانا ښه حکمت والا.

**تفسیر:** یعنی ستاسی غوښتنه هم پرته (علاوه) د الله تعالیٰ له غوښتنی نشی کیدی ـ ځکه چه د بنده مشیت د الله تعالیٰ د مشیت تابع دی دغه الله تعالیٰ ته ښه معلوم او ښکاره ده چه د چا استعداد او قابلیت څه قسم دی؟ نو سم له هغه سره د هغه مشیت کار کوی. بیا پاک الله هر چا لره چه پخپل مشیت په سمی لاری باندی بیائی یا په ګمراهی کښی پریږدی.

یُّدۡخِلُ مَنۡ یَّشَآءُ فِیۡ رَحۡمَتِہٖ ؕ وَ الظّٰلِمِیۡنَ اَعَدَّ لَہُمۡ عَذَابًا اَلِیۡمًا ﴿۳۱﴾ ع

داخلوی (الله) هغه څوک چه اراده (د دخول ئی) وفرمائی په رحمت خپل کښی او ظالمان (کافران چه دی) تیار کړی دی (الله) دوی ته عذاب ډیر دردناک.

**تفسیر:** یعنی د هر چا استعداد چه ښه وی هغه ته به په نیکی باندی د تللو توفیق ورویښی او د خپل رحمت او فضل مستوجب به ئی وګرځوی.

**تمت سورة «الدهر» بفضل الله تعالیٰ ومنه وکرمه.**

سورة المرسلات مکیة الا آیة (٤٨) فمدنیة وهی خمسون آیة وفیها رکوعان رقمها (٧٧) تسلسلهاحسب النزول (٣٣) نزلت بعد سورة «الهمزة».

د «المرسلات» سورت مکی دی پرته (علاوه) له (٤٨) آیته څخه چه مدنی دی (٥٠) آیته (٢) رکوع لری

په تلاوت کښی (٧٧) او په نزول کښی (٣٣) سورت دی وروسته د «الهمزة» د سورت څخه نازل شوی دی

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ○

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

وَ الۡمُرۡسَلٰتِ عُرۡفًا ۙ﴿۱﴾ فَالۡعٰصِفٰتِ عَصۡفًا ۙ﴿۲﴾

قسم دی په هغو بادونو چه لیږلی شوی دی (د الله له طرفه) پی در پی پرله پسی (چه زړونه خوښوی) (یا) قسم دی په هغو ملائکو لیږلیو شویو په نیکیو سره (چه امر او نهی دی). بیا قسم دی په هغو سختو خوځوونکیو بادونو باندی چه الوځی په زور سره (یا) پس قسم دی په هغو ملائکو تلونکیو په حکم د الله سره ګرځندی تلل

**تفسیر:** یعنی اول پسته او ښه نری هوا چلیږی چه له هغی سره به د مخلوقاتو ډیر توقعات او منافع تړلی وی بیا لږ څه وروسته همغه یوه نرمه او پسته هوا د یوی سختی سیلی او طوفان جکړ پشان به الوځی او داسی خرابی او ورانی به راولی چه خلق به په نارو سورو شی. هم دا د دنیا او د آخرت مثال وګڼئ! ډیر داسی کارونه دی چه خلق هغه اوس مفید او نافع ګڼی او پر هغه باندی د دوی لوئی هیلی (امیدونه) تړلی وی او ډیر توقعات تری لری خو همغه کار کله چه د قیامت په ورځ پخپل اصلی او ډیر سخت او ویروونکی صورت سره راښکاره شی نو ګرد (تول) خلق به تری پناه غواړی.

وَّالنّٰشِرٰتِ نَشْرًا ۙ فَالْفٰرِقٰتِ فَرْقًا ۙ

قسم دی په هغو خواره کوونکیو بادونو باندی (باران لره) پورته کول خورول بیا (قسم دی) په (هغو ملائکو یا آیتونو د قرآن چه) جدائی کوی (په منځ د حق او باطل کښی) جدائی کول

**تفسیر:** یعنی پر هغه هواؤ باندی قسم دی چه بخارات او نور له ځانه سره راپورته کوی او وریځی پیدا کوی او په فضاء کښی ئی خوروی ـ بیا په هر هر ځای کښی چه د هغوی رسونه مقصود وی د الله تعالیٰ په امر هغه هم هغلته رسوی او ویشی ئی او له وریا (باران) څخه وروسته بیا وریځی یوه لوری بل لوری ته خوروی. هوا یوازی له وریځی سره مخصوصه نه ده بلکه د هغه عمومی خاصیت دا دی چه د ګردو (ټولو) شیانو کیفیات لکه ښی او بدی وږمی او نور خوروی او د هغوی لطیف اجزاء ځنی بیلوی او له ځان سره ئی وړی او یو شیز له یوه ځایه جلا (جدا) کوی او له بل سره ئی لګوی غرض دا جمع او تفریق چه د هوا خاصه ده د آخرت یوه نمونه ده چه هلته د حشر او نشر څخه وروسته به وګړی (خلق) سره بیلول شی او پس له یوه تولیدلو ځنی به بیلو بیلو ځایونو ته رسول شی ﴿ هٰذَا يَوْمُ الْفَصْلِ جَمَعْنٰكُمْ وَالْاَوَّلِيْنَ ﴾

فَالْمُلْقِيٰتِ ذِكْرًا ۙ عُذْرًا اَوْ نُذْرًا ۙ

پس قسم دی په هغو (پرښتو) چه راښکته کوونکی د ذکر وحی پند دی لپاره د لری کولو د عذر (الزام د مؤمنانو) او لپاره د ویرولو (الزام د کافرانو).

**تفسیر:** حضرت شاه عبدالعزیز رحمة الله علیه له «الملقیات ذکراً» څخه هم هوا مراد کړی ده ځکه چه د وحی غږ د خلقو غوږونو ته رسوونه هم د هوا کار دی.
**تنبیه:** «المرسلات ـ العاصفات ـ الناشرات ـ الفارقات ـ الملقیات» د پنځو واړو مصداق ځینو هواوی تاکلی (مقرر کړی) دی ځینو پرښتی ځینو پیغمبران او ځینو مفسرینو لکه چه ړومبنیو څلورو څخه هواوی مراد کړی دی او له پنځمی ځنی ئی پرښتی اخیستی دی چه په ترجمه کښی ښکاره ده نوری خبری هم په دی مورد کښی شته چه د هغوی ګرد (ټول) تفصیلات په (روح المعانی) کښی شته.
حضرت شاه عبدالقادر رحمة الله علیه لیکی چه «له وحی څخه د کافرانو د دغه الزام لری کول منظور دی چه د سزا په وقت کښی ونه وائی چه مونږ نه وو خبر او هغو کسانو ته چه په برخه کښی ئی ایمان دی د ویری اورول دی چه ایمان راوړی» حضرت شاه عبد العزیز رحمة الله علیه فرمائی چه «د الله تعالیٰ هغه کلام چه پر امر ـ نهی عقائدو او احکامو باندی مشتمل دی هغه د عذر کولو دپاره دی چه د اعمالو د پوښتنی په وقت د دی سری دپاره عذر او دستاویز وی چه ما هغه کار سم د الله تعالیٰ له امره سره کړی دی ـ او د ده د هغه امر په نسبت می له هغه کار ځنی ځان ساتلی دی او د الله تعالیٰ هغه کلام چه پر قصصو ـ اخبارو او نورو باندی مشتمل وی عموماً د منکرانو د ویرولو او دارولو دپاره دی». په دی سورت کښی د خبری مخه زیاتره د مکذبینو او منکرینو په لوری ده نو ځکه د بشارت ذکر ئی ونه کړ. والله اعلم په هر حال سره وحی راوړونکی پرښتی او وحی رسوونکی هواوی دواړه شاهدانی دی چه یو وقت هرومرو (خامخا) داسی راتلونکی دی چه په هغه کښی به مجرمان پخپلو حرکاتو باندی پړ او ملزم کیږی ـ او له الله تعالیٰ ځنی ویریدونکی به بیخی مأمون ـ مصئون او بی فکره وی.

إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَوَاقِعٌ ۝

بیشکه څه وعده چه له تاسی سره کړی شوی ده (د قیامت) خامخا واقع کیدونکی ده.

**تفسیر:** یعنی د قیامت او د آخرت د حساب او کتاب او جزاء او سزا وعده هرومرو (خامخا) پیښیدونکی ده.

فَإِذَا النُّجُومُ طُمِسَتْ ﴿٨﴾ وَإِذَا السَّمَاءُ فُرِجَتْ ﴿٩﴾

نو کله چه ستوری تور شی رڼا (رنړا) نور یې ورک شي. او کله چه آسمان څیری کړ شي.

**تفسیر:** یعنی ستوری محوه بې رڼا خرپر کیږی آسمان به توټی توټی را لویږی او د څیریدلو له وجی به په هغه کښې وروڼه او کړکی څرګندیږی

وَإِذَا الْجِبَالُ نُسِفَتْ ﴿١٠﴾

او کله چه غرونه والوځولی شي (وایستل شی له ځایونو خپلو نه) او روان شي.

**تفسیر:** یعنی د پاغوندو په شان په هوا کښې الوځی او دی خو او هغی خوا ګرځی.

وَإِذَا الرُّسُلُ أُقِّتَتْ ﴿١١﴾

او کله چه د پیغمبرانو وقت وټاکلی (مقرر) شي (او جمع کړل شی دپاره د شهادت).

**تفسیر:** چه له وړاندی وروسته ټاکلی (مقرر) وقت سره سم د خپلو امتیانو سره د رب العزت په دربار کښې حاضر شي.

لِأَيِّ يَوْمٍ أُجِّلَتْ ﴿١٢﴾ لِيَوْمِ الْفَصْلِ ﴿١٣﴾

دپاره د کومی ورځی وروستی کړی شوی دی (دا څیزونه) دپاره (د شهادت) د ورځی د فیصلی.

**تفسیر:** یعنی پوهیږئ چه دا فیصله کومی ورځی دپاره ساتلی شوی ده؟ هغی ورځی ته چه په هغی کښې به د هری خبری بیخی او آخری او قطعی فیصله وی بیشکه که الله تعالیٰ غوښتلی اوس به هم د هر څیز فیصله لاس په لاس او سم د لاسه هم کوله خو د ده د حکمت اقتضاء داسی نه ده چه اوس هر څوک پخپلی سزا ورسوی.

وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا يَوۡمُ ٱلۡفَصۡلِ ﴿١٤﴾ وَيۡلٌ يَوۡمَئِذٍ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ﴿١٥﴾

او څه شي پوه کړې ئې ته چه څه ده ورځ د فيصلې افسوس هلاک خرابي ده په دغې ورځې کښې دروغ ويونکيو لره (په ورځې د قيامت باندې).

**تفسير:** يعني هيڅ مه پوښته چه د فيصلې ورځ به څرنګه وي؟ بس دومره وپوهيږه چه دروغ ويونکيو لره به د تباهي ډيره سخته ورځ وي او له سختو مصائبو او ربړو (تکليفونو) سره به په کښې مخامخ کيدونکي وي ځکه چه د هغه څيز له ليدلو څخنې چه د دوی په فکر او خيال کښې هم نه ؤ تير هر کله چه ورسره مخامخ شي سخت وار خطاء کيږي او د حيرت او ندامت لامله (له وجې) ئې حواس خرابيږي.

أَلَمۡ نُهۡلِكِ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿١٦﴾ ثُمَّ نُتۡبِعُهُمُ ٱلۡأٓخِرِينَ ﴿١٧﴾ كَذَٰلِكَ نَفۡعَلُ بِٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿١٨﴾

آيا نه دي هلاک کړي مونږ مجرم خلق ړومبني بلکه هلاک کړي مو دي په سبب د تکذيب سره بيا ورليږو په هغو پسي وروستني (مجرمان هم لکه چه له دوی سره مو معامله وکړه) هم داسې کار کوو مونږ له ټولو مجرمانو ګنهګارانو سره.

**تفسير:** د قيامت منکرانو داسې ګڼل چه د دنيا دا لوی ژوندون به په څه ډول (طريقه) پای (آخر) ته رسيږي؟ او څرنګه به باور کيدی شي چه دا ګرد (ټول) بني آدمان به په يوه ورځ کښې سره مره ـ او انساني نسل به بيخي فنا کيږي؟ دا دوزخ او عذاب ويرول ګرد (ټول) سره فرضي او ساختګي راښکاري ـ نو د دې چټي (بيکاره) خبرو په جواب کښې فرمائي چه پخوا له دې څخه ډير خلق مره شوي دي ـ او ډير اقوام او ټبرونه د خپلو ګناهونو په بدل د تباهي سره مخامخ شوي دي ـ د ورستنيو په نسبت به هم داسې د موت او هلاکت سلسله جاري وي نو پاک الله فرمائي کله چه څمونږ قديمي عادت د مجرمانو په نسبت معلوم او څرګند (ښکاره) دی نو وپوهيږئ چه د دې پيرې کفار به هم په همغو پخوانيو کفارو پسي شړو. هغه لوی ذات چه په بيلو بيلو زمانو کښې ئې لوی لوی مضبوط او ټکره سرې وژلي دي ـ او ډير طاقتور مجرمان ئې هلاک کړي دي ـ نو آيا هغه اوس په دې باندې قدرت نه لري چه په دې ګردو (ټولو) مخلوقاتو باندې په يوه وقت کښې د عذاب خوند وڅکي؟ او ټول يو ځلې فنا کړي بلکه ښه قادر او کولې ئې شي.

﴿ سبحان ذی العزة والعظمة والکبریاء والجبروت ﴾

وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۱۹﴾

افسوس هلاک خرابی ده په دغی ورځی کښې دروغ ویونکیو لره (په بعث بعد الموت باندی).

**تفسیر:** یعنی هغه کسان چه د قیامت راتګ ئی د دی لپاره دروغ ګڼانه چه ګرد (تول) انسانان به څرنګه یو ځلی پناه کیږی؟ او په څه دول (طریقه) به ګرد (تول) مجرمان په یوه وقت کښې ګرفتار او په سزا رساوه کیږی؟.

اَلَمْ نَخْلُقْكُّمْ مِّنْ مَّآءٍ مَّهِيْنٍ ﴿۲۰﴾ فَجَعَلْنٰهُ فِيْ قَرَارٍ مَّكِيْنٍ ﴿۲۱﴾ اِلٰى قَدَرٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿۲۲﴾

آیا نه یئ پیدا کړی مونږ تاسی له اوبو سپکو (د منی) ځنی نو ومو ساتلی مونږ هغه (اوبه) په ځای د قراری تینګ کښې (چه د مور رحم دی) تر نیټی معلومی (وقت د ولادت) پوری.

**تفسیر:** یعنی د یوی وقفی په ځای کښې ئی محفوظ وساته. له دی ځنی مراد د مور رحم دی چه هغه ته (بچه دان) هم وایه شی. او علی الاکثر ووړکی هلته تر نهو میاشتو پوری وی او خپل خلقت کاملوی.

فَقَدَرْنَا ۖ فَنِعْمَ الْقٰدِرُوْنَ ﴿۲۳﴾

پس قادر یو مونږ په دغو کارونو باندی پس ښه تیک قادران یو مونږ

**تفسیر:** یعنی د اوبو هغه څاڅکی ئی او تر نیټی معلومی پوری په هغه تینګ او مضبوط ځای (رحم) کښې چه اکثر نهه میاشتی وی وساته په تدریج سره یی پوره کړ او له هغه څخه یی په ورو ورو یو کامل انسان جوړ کړ له دی ځنی څمونږ په قدرت او قوت باندی وپوهیږئ نو آیا دا الله تعالیٰ دا انسان وروسته له مرینی څخه نشی ژوندی کولی.

**تنبیه:** ځینو د «قدرنا» معنی اندازه کول اخیستی دی یعنی «اندازه مو کړ» او مونږ یو ښه اندازه کوونکی یو چه په دومره مدت کښې له مونږ ځنې هیڅ یو ضروری څیز نه دی پاتې او نه مو کوم زائد او بیکار شی پیدا کړی دی.

وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۲۸﴾

افسوس هلاک خرابی ده په دغې ورځې کښې دروغ ویونکیو لره (په ایمان او په نعمت باندې).

**تفسیر:** چه داسې به ئې ویل کله چه مونږ په خاورو کښې داسې ګډود شو چه ځمونږ د هډوکو بڅرکې بیخې نرې او ګرد (تول) سره خاورې ایرې شي نو آیا بیا به په څه دول (طریقه) ژوندی کیږو؟ نو په هغه وقت کښې به دوی پخپلو دې چټی (بیکاره) او پلیتو شبهاتو باندې وشرمیږی او د ندامت او ارمان ګوتې به په غاښونو وچیچی.
(اوس الله تعالیٰ جل وعلا شانه وعظم برهانه ذکر کوی د خپل احسان پر خپلو بندګانو او داسې فرمائی):

اَلَمْ نَجْعَلِ الْاَرْضَ كِفَاتًا ﴿۲۵﴾ اَحْيَآءً وَّاَمْوَاتًا ﴿۲۶﴾

آیا نه ده ګرځولې مونږ ځمکه جمع کوونکې (په شا خپلې) ژوندیو لره او مړیو لره (په ګیده نس خپل کښې).

**تفسیر:** یعنې ګرد (تول) ژوندی مخلوقات پر هم دغې ځمکې باندې د خپل ژوندون چارې برابروی او د دوی مړی هم په هم دې ځمکې کښې خښیږی او ورته رسیږی. انسان ته ژوندون د هم دې خاورې په وسیله په برخه شوی دی او له مړینې ځنې وروسته ئې هم دا خاوره د هستوګنې ځای دی. نو آیا بیا دوهم کرت له دې خاورې ځنې د هغه پورته کیدل کومه مشکله خبره ده؟.

وَّجَعَلْنَا فِيْهَا رَوَاسِيَ شٰمِخٰتٍ وَّاَسْقَيْنٰكُمْ مَّآءً فُرَاتًا ﴿۲۷﴾

او پیدا کړی دی مونږ په دې (ځمکه) کښې غرونه لوی او لوړ (اوچت) او در ومو څښلې تاسې ته اوبه خوږې تنده ماتوونکې.

**تفسیر:** یعنی په هم دغې ځمکې کښې مو لکه غر غوندې درونډ او سخت جسم پیدا کړی دی چه

له خپله ځایه هیڅ نه خوځیږی. او په هم دی ځمکی کښی مو د اوبو چینی در بهولی دی چه د خپلی نرمی او سیلان په سبب تل تر تلله بهیږی او په ډیر سهولت سره ئی ښښونکی څرویږی ـ پس هغه الله تعالیٰ چه په دی حقیری ځمکی کښی ئی پخپل قدرت سره داسی متضادی نمونی راښولی دی او د موت او حیات او د سختی او نرمی ډیری منظری او ننداری ئی راوړاندی کړی دی نو آیا هغه د حشر په میدان کښی د سختی او د نرمی او د نجات او د هلاک مختلف مناظر او ننداری نشی راښوولی؟ او هم د هغه ذات په قبضه کښی چه د پیدا کولو هلاک کولو او د حیات او بقاء ګرد (ټول) سامان او وسیلی شته نو آیا د هغه قدرت او نعمت دروغ ګڼل څرنګه جائز کیدی شی؟.

وَيۡلٌ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ﴿٢٨﴾

افسوس هلاک خرابی ده په دغی ورځی کښی دروغ ویونکیو لره (په دغو مخلوقاتو او نعمتونو باندی).

**تفسیر:** یعنی هغه کسان چه داسی ئی ګڼل چه په یوه ځای او یوه وقت کښی به د ګردو (ټولو) روم‌بنیو او وروستنیو د اثابت او تعذیب په دی اندازه مختلفی او متضادی چاری څرنګه پای (آخر) ته رسیږی او وبه ویل شی دغو مکذبینو ته د الله اکرم شانه واعظم برهانه له جانبه د قیامت په ورځی کښی داسی چه:

ٱنطَلِقُوٓاْ إِلَىٰ مَا كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ﴿٢٩﴾

ځئ لاړ شئ! هغه څیز ته چه وئ تاسی چه په هغه (عذاب د اور) به مو دروغ وئیل په دنیا کښی.

**تفسیر:** یعنی د قیامت په ورځ کښی به منکرانو ته داسی ویل کیږی. بیا به وویل شی د الله له جانبه منکرانو ته داسی چه:

ٱنطَلِقُوٓاْ إِلَىٰ ظِلّٖ ذِي ثَلَٰثِ شُعَبٖ ﴿٣٠﴾

ځئ لاړ شئ تاسی! هغه سیوری ته چه خاوند د دریو ښاخونو څانګو دی.

**تفسیر:** له قتادة رضی الله تعالیٰ عنه او نورو څنی مروی دی چه د کافرانو د سیوری دپاره یو

لوګی له دوزخه راوځی چه په چاودلو سره به په دریو څانګو ویشل کیږی وائی چه دا لوګی به داسی وی چه له هر یوه منکر به له دری خواؤ راچاپیر وی ـ یوه توته به ئی د سر له لوری د چتری په دول (طریقه) ولاړه وی او دوهمه به ئی په ښی لاس او دریمه به ئی په کیڼ لاس. د حساب تر خلاصیدلو پوری به دا خلق تر هم دی سیوری لاندی وی او ایمانداران او نیک کرداران به د عرش عظیم تر سیوری لاندی په دیره هوسائی (راحت) او آرام سره ولاړ وی.

لَّا ظَلِيلٍ وَلَا يُغْنِي مِنَ اللَّهَبِ ﴿٣١﴾

چه نه به وی (دا سیوری) یخ او نه به دفع کوی (له دوی نه هیڅ شی) له لمبی د اور نه).

**تفسیر:** یعني یواځی په نامه سره به سیوری وی. داسی کوم ګڼ سیوری به نه وی چه د هغه په وسیله د لمر له تودوخی یا د اور له لمبو ځنی منکرین ځان وژغوری (وساتی) یا د تندی د داخلی او خارجی تودوخی مخه ونیسی.

إِنَّهَا تَرْمِي بِشَرَرٍ كَالْقَصْرِ ﴿٣٢﴾

بیشکه هغه (اور) ویشتل کوی په هسی بخرکو سرو سکروټو سره (چه هره یوه به ئی وی) لکه لوړه (اوچته) غټه مانی.

**تفسیر:** یعني د دوزخ دغه سکروټی به دغومره لوړی (اوچتی) وی او هغه سکروټی به د لوئی مانی د وچتوالی په میچ رااللوځی. یا به د هغه د سکروټو لویوالی د لوئی مانی له لویوالی سره برابر وی.

كَأَنَّهُ جِمَالَتٌ صُفْرٌ ﴿٣٣﴾

ګواکی هغه (بخرکی سکروټی قطار د ) اوښانو زیړو تورو دی.

**تفسیر:** یعني که له مانی سره تشبیه په لوړوالی (وچتوالی) کښی وی نو له اوښ سره به په لویوالی کښی هم وی. که هغه تشبیه په لویوالی کښی وی نو د ﴿ كَأَنَّهُ جِمَالَتٌ صُفْرٌ ﴾ مطلب به داسی وی چه ؤرمبی به د اور هغه بخرکی او سکروټی له مانی سره برابری وی بیا به ماتی او وړی شوی د اوښ په اندازه به کیږی. یا به له اوښ سره په رنګ کښی تشبیه ولری خو په دی

صورت کښې هغو کسانو چه د ﴿ جِمٰلَتٌ صُفۡرٌ ﴾ ترجمه په «تورو اوښانو» سره کړی ده هغه زياته ښه لګيږی ځکه چه له روايتونو څخه دا ثابته شوی ده چه د دوزخ اور تک تور دی او عرب تورو اوښانو ته د دی لامله (له وجی) «صفر» وائی چه هغه عموماً زيړوالی ته مائل وی. والله اعلم.

وَيۡلٌ يَّوۡمَئِذٍ لِّلۡمُكَذِّبِيۡنَ ۝٣٤

افسوس هلاک خرابی ده په دغی ورځی کښې دروغ ويونکيو لره (د داسی عذابونو).

**تفسير:** چه داسی به ئی ګڼل چه قيامت نه دی راتلونکی او که را هم شی نو مونږ به هلته په آرام او هوسائی (راحت) کښې يو.

هٰذَا يَوۡمُ لَا يَنۡطِقُوۡنَ ۝٣٥

دا هغه ورځ ده چه (مفيدی) خبری نه کوی (پکښې کفار يا به نشی نيولی هيڅ حجت پر الله باندی).

**تفسير:** يعني منکران به ځينو مواطنو کښې بالکل خبری ونه شی کړی او په هغو مواطنو کښې چه وينا کوی هغه به نافع نه وی. نو په دی لحاظ سره به د هغوی ويل او نه ويل ګرد (تول) سره برابر وی.

وَلَا يُؤۡذَنُ لَهُمۡ فَيَعۡتَذِرُوۡنَ ۝٣٦

او اذن حکم به ونه کړ شی دوی ته چه عذر وغواړی (او نه به معذرت ورته څه نفع ورسوی).

**تفسير:** ځکه چه د معذرت او د توبی د قبليدلو وقت تير شوی دی.

وَيۡلٌ يَّوۡمَئِذٍ لِّلۡمُكَذِّبِيۡنَ ۝٣٧

افسوس هلاک خرابی ده په دغی ورځی کښې دروغ ويونکيو لره (په دغی ورځی د قيامت باندی).

**تفسیر:** یعنی هغه کسان چه دغه ورځ د دنیا په عدلیو او محکمو باندی قیاس کوی او داسی ئی گڼلی وی چه که هسی کومه موقع راوړاندی شوه نو هلته به هم په غوړو خبرو او په عذرونو او ننواتو سره ځانونه خلاصوو.

هٰذَا يَوْمُ الْفَصْلِ ۚ جَمَعْنٰكُمْ وَالْاَوَّلِيْنَ ﴿۳۸﴾

دا ورځ د فیصلی ده تولوو مونږ تاسی (ای مکذبانو) او پخوانی خلق هم.

**تفسیر:** د دی لامله (له وجی) چه گرد (تول) سره راتول کړو او بیا ئی بیل بیل سره ودروو او وروستنی او آخری حکم او فیصله ورواوروو.

فَاِنْ كَانَ لَكُمْ كَيْدٌ فَكِيْدُوْنِ ﴿۳۹﴾

پس که وی تاسی لره څه کید مکر چل (په دفع د عذاب کښی) نو وکړئ دغه کید مکر چل مو په ما باندی.

**تفسیر:** هو که! دا گرد (تول) مو دلته سره راتول کړی اوس دی یو له بله سره جرگی او مشوری وکړی هر هغه چم (چل) کید او مکر فریب او تدبیر چه څمونږ د نیولو دپاره جوړولی شی هغه دی جوړ کړی او راودی ښیی په دنیا کښی خو مو د حق په باطلولو او پتولو کښی ډیر تدبیرونه کړی ۀ نن مو هم له همغو تدبیرونو څخه هر یو مو چه زړه غواړی راد مخه ئی کړئ!.

وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۴۰﴾ ع

افسوس هلاک خرابی ده په دغی ورځی کښی دروغ ویونکیو لره (په حساب کتاب باندی).

**تفسیر:** چه په نورو باندی ئی هیله (امید) او اسره کړی وه چه هغوی به مونږ په هر دول (طریقه) سره چه وی خلاصوی ځینو سپین سترگو خو د دوزخ د پرښتو شمیر نولس اوریدلی داسی ئی هم ویلی دی چه د دوی له منځه اوولسو تنو ته یواځی زه کافی یم.

اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ ظِلٰلٍ

خامخا پرهیزګاران ویریدونکی به (د جنت د ونو) په سیوری کښې وی.

**تفسیر:** یعنې ویریدونکی له عذابه د الله چه کوی پرهیز له کفر او عصیان څخه ړومبی د عرش بیا د جنت په سیوریو کښې به وی.

وَّعُيُوْنٍ ﴿٤١﴾ وَّفَوَاكِهَ مِمَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿٤٢﴾ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا هَنِيْٓـًٔا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٤٣﴾

او په (غاړه د) چینو کښې به وی او په (منځ د) میوو کښې به وی له هغه قسمه چه غواړی ئی دوی (او وائی به مومنانو ته پرښتی چه) خورئ تاسی او څښئ تاسی (ای متقیانو) په داسی حال کښې چه لذت اخیستونکی او هضمیدونکی به یئ په بدل د هغو (صالحه ؤ اعمالو) چه وئ به تاسی چه کول به مو (په دنیا کښې)

**تفسیر:** د مکذبینو په مقابل کښې ئی دا د متقینو حال بیان وفرمایه ځکه «الاشیاء تعرف باضدادها».

اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٤٤﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٤٥﴾

(لکه چه جزاء مو متقیانو ته ورکړه) بیشکه مونږ دا رنګه ښه بدل ورکوو نیکانو ته (پس نیکی دی کوی چه ښه جزاء بیامومی دغسی) افسوس هلاک خرابی ده په دغی ورځی کښې دروغ ویونکیو لره (په نعماؤ د جنت سره).

**تفسیر:** چه په دنیا کښې به ئی مسلمانانو ته ویل که له مرینی څخه وروسته بیا ژوندون وی نو هلته به هم مونږ له تاسی څخه ښه یو اوس چه هغوی تاسی په عیش او عشرت کښې وینی او خپل ځانونه په تکلیف او زحمت کښې مومی نو دوی ته لا زیات ربړ (تکلیف) رسیږی او رسوا او ذلیل کیږی. او وائی به منکرانو ته پرښتی داسی چه:

كُلُوْا وَتَمَتَّعُوْا قَلِيْلًا اِنَّكُمْ مُّجْرِمُوْنَ ﴿٤٦﴾

خوړئ تاسو! او نفع اخلئ (ای مکذبانو له نعمتونو د فاني دنیا) لږی ورځی بیشکه یئ تاسی مجرمان (گنهگاران په عقبیٰ کښی).

**تفسیر:** دا خطاب مکذبینو ته دی چه څو ورځی نوری هم مزی وکړئ! آخر به د دی خوړلو او څښلو بدل په بنه دول (طریقه) له تاسی څخنی اخیست کیږی ځکه چه تاسی د الله تعالیٰ مجرمان یئ چه د هغه سزا پرته (علاوه) له حبس دوام او عذاب الیم څخه بل شی نه دی گواکی «کلوا وتمتعوا» فرمایل داسی شول لکه چه یو هسی مجرم ته چه په وژلو سره محکوم شوی وی داسی وویل شی که څه غوښتنه یا خواهش لری راښکاره ئی کړه چه د هغه په پوره کولو کښی کوشش وکړ شی.

وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ﴿٤٧﴾

افسوس هلاک خرابی ده په دغی ورځی کښی دروغ ویونکیو لره (له عذاب دردناک څخه).

**تفسیر:** چه د دنیا په عیش ـ عشرت ـ ساعت تیری او لذتونو کښی دوب تللی وی ـ له دی څخه خبر نه وی هغه څیز چه تاسی ته د گلانو امیل ښکاریده او هغه مو پخپلو غاړو کښی اچول هغه یو تک تور سخت چیچونکی مار او منگور دی.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱرۡكَعُواْ لَا يَرۡكَعُونَ ﴿٤٨﴾

او کله چه وویل شی (په دنیا کښی) دغو (مکذبینو) ته چه رکوع وکړئ لمونځ وکړئ تاسی (الله ته) نه کوی دوی رکوع لمونځ (الله ته).

**تفسیر:** یعنی مکذبین په لمانځه کښی رکوع نه کوی یا د الله تعالیٰ د عامو احکامو په مقابل کښی غاړه نه ږدی.

وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ﴿٤٩﴾

افسوس هلاک خرابی ده په دغی ورځی کښی دروغ ویونکیو لره (په اوامر او نواهی د الله).

**تفسیر:** په هغې ورځې کښې به ارمان او افسوس کوی چه په دنیا کښې مو ولی د الله تعالیٰ د احکامو په مقابل کښې سرښکته نه کړ که مو په دنیا کښې د هغه الله تعالیٰ په مقابل کښې سر تیت کړی وی نو دلته به هرومرو (خامخا) معزز محترم او سرلوړی (سرفراز) وم.

---

فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَهُ يُؤْمِنُونَ ﴿٥٠﴾ ع

---

پس په کومې خبرې باندې وروسته ما سوا له دې (قرآنه) په ایمان یقین راوړی (دغه منکران) بلکه په بل شی باندې ممکنه نه ده پرته (علاوه) له (قرآن).

---

**تفسیر:** یعنی له قرآن مجید ښخه لوړ (اوچت) او کامل او مؤثر بیان به د چا وی؟ که دا مکذبین په دې باندې باور نه کوی نو پر کومې خبرې به ایمان راوړی آیا له دې پاک قرآن ځنې وروسته د بل کوم کتاب د راتللو په انتظار کښې دی چه له آسمانه به راښکته شی؟.

**(آمنا بالله وبماانزل الله فاکتبنامع المؤمنین)**

**تمت سورة «المرسلات» بفضله ولله الحمد والمنة وبه التوفیق والعصمة**

سورة النبإ مكية وهى اربعون آية و فيها ركوعان تسلسلها حسب النزول (۸۰) رقم تلاوتها (۷۸)
نزلت بعد سورة المعارج

د «النبا» سورت مکی دی (٤٠) آية (۲) رکوع لری په نزول کښی (۸۰) او په تلاوت کښی (۷۸) سورت دی
وروسته د المعارج له سورته نازل شوی دی

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

عَمَّ يَتَسَآءَلُوْنَ ۝١

له څه شي څخه پوښتنه کوی (کفار) یو له بله (یا له مؤمنانو څخه په طریقه د مسخری سره).

**تفسیر :** یعنی خلق د کومی خبری پته لګولو او د کوم شیز په تحقیق او تفتیش کښی مشغول دی؟ آیا په هغو کښی داسی څه قوت او استعداد شته چه له ډیرو پوښتنو څخه په هغه شیز باندی وپوهیږی؟ هیڅ کله به ونه پوهیږی یا دا چه کافران د انکار او استهزاء او د نه منلو او مسخرو په ډول (طریقه) په خپلو منځونو کښی او هم له پیغمبر او مسلمانانو څخه پوښتی خانه ! هغه لویه ورځ کله راځی؟ ولی دومره وځندیده (ایساره شوه) اوس ولی نه راځی؟» تاسی پوهیږئ چه دوی د څه دپاره داسی پوښتنی کوی؟ هغه داسی عظیم الشان او لویه خبره او ویروونکی ننداره ده چه د هغه علم او پوه دوی ته عنقریب راځی او دوی به ئی ژر په خپلو سترګو ووینی او پری وبه پوهیږی.

عَنِ النَّبَاِ الْعَظِيْمِ ۝٢ الَّذِيْ هُمْ فِيْهِ مُخْتَلِفُوْنَ ۝٣

پوښتنه کوی (کفار) د لوئی خبری (قیامت یا قرآن څخه چه مشتمل دی په بعث او نورو اخروی امورو) هغه (قرآن) چه دوی په کښی مختلف دی (مؤمنان ئی په حقانیت اقرار لری او کافران تری انکار کوی).

**تفسیر :** یعنی د قیامت لویه ورځ چه د خلقو په منځ کښی په هغی کښی اختلاف او شخړه

(جګړه) ده او کفار په هغه کښې سره مختلف دی په انکار او په شک کښې یا به تپوس کاوه مؤمنانو او کافرانو تولو. مؤمنانو دپاره د زیادت د ویرې او کافرانو له جهته د مسخرې نه څوک ئې راتګ منی څوک ئې نه منی څوک ئې په خیال کښې ورته تللی دی څوک وائی جسم پورته کیږی څوک وائی ګرد (تول) رنځ او خوند په روح او په سا باندی تیریږی او په جسم پورې هیڅ څیز اړه (مجبوری) نه لری څینی وائی قیامت شته او بتان به څمونږ شفاعت کوی او څینی وائی نشته او څینی شک کوی په واقع کیدو ئې او په نه واقع کیدو ئې. او نورې دا راز (قسم) جګړې.

كَلَّا سَيَعْلَمُونَ ﴿٤﴾ ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُونَ ﴿٥﴾

نه دی کوی( دا اختلاف او پوښتنې) ژر به وپوهیږی (دا کافران په عذاب د انکار باندی) بیا هیڅکله دی نه کوی (پوښتنې او اختلاف) ژر به وپوهیږی (په عذاب د انکار) دغه منکران په هغه باندی چه حق دی په هغه وقت کښې چه مړه شی او وڅکی عذاب.

**تفسیر** : یعنی پیغمبرانو د دنیا له اوله تر اوسه پورې خلق ډیر پوهولی دی خو خلقو هیڅ کله له خپلو جګړو او پوښتنو څخه مخ نه دی اړولی اوس نژدی ده چه هغه ویروونکی ننداره هغوی ته په مخ کښې راشی نو هلته به وپوهیږی چه د قیامت لویه ورځ څه شی ده؟ او د هغې پوښتنې او جګړې په څه ډول (طریقه) دی؟.

أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ مِهَادًا ﴿٦﴾

آیا نه ده ګرځولې مونږ ځمکه فرش (بلکه ګرځولې ده مونږ ځمکه فرش لپاره د هستوګنې د خلقو).

**تفسیر** : چه خلق په سکون او اطمینان پرې ولګوی او هستوګنه پرې وکړی او په آرامی او هوسائی (راحت) سره ناسته ملاسته پکښې وکړی.

وَالْجِبَالَ أَوْتَادًا ﴿٧﴾

او (آیا نه دی ګرځولی مونږ) غرونه میخونه (بلکه ګرځولی دی مونږ غرونه د ځمکې میخونه چه په سبب د هغو برقراره ده).

**تفسیر :** لکه چې یو شی د میخونو په وهلو سره ټینګیږی او نه سره بیلیږی او نه له خپل ځای څخه دی خوا او هغې خوا ته خوځیږی هم دا راز (قسم) د ځمکې هغه ابتدائی خوزیدل او سره بیلیدل د غرونو د شته والي په سبب شول او د الله تعالیٰ په امر ئې په ښکاره ډول (طریقه) یو راز (قسم) آرام په برخه شو.

وَّخَلَقْنٰكُمْ اَزْوَاجًا ﴿٨﴾

او پیدا کړی یئ مونږ تاسی جوړه (نر او ښځه).

**تفسیر :** یعنی الله تعالیٰ د نارینه د سکون او راحت او هوسائی (آرام) او وخت تیرولو دپاره ښځه د ده جوړه کړی ده لکه چه د «الروم» په دریمی رکوع ۲۱ آیت ځمونږ د دغه تفسیر کښې داسی یو آیت شته ﴿ وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوْٓا اِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَّوَدَّةً وَّرَحْمَةً ﴾ یا به له ازواج څخه مراد راز راز (قسم قسم) اشکال (انواع اقسام) او نور شیان مراد وی.

وَّجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا ﴿٩﴾

او ګرځولی دی مونږ خوب ستاسی قطع د کارونو آرام راحت (د ابدانو د تاسی).

**تفسیر :** یعنی سړی چه په اوږدی ورځی کښې له ډیر کاراو بار او خوځیدو ستړی ستومانه کیږی نو هر کله چه اوده شی نو ګرده (توله) ستومانی او ستړتیا ئې لرې کیږی ګواکی خوب د آرامی او هوسائی (راحت) نوم دی وروسته له دی د خوب په مناسبت شپه هم یادیږی.

وَّجَعَلْنَا الَّيْلَ لِبَاسًا ﴿١٠﴾

او ګرځولی ده مونږ شپه لباس (پټوونکی د هر څیز په تیاری خپلی سره).

**تفسیر :** همغسی چه سړی پخپلو جامو سره ځانونه پټوی ګواکی د شپې تیاره هم د خلقو پرده ساتی او هغه چاری چه د پټیدلو وړ (لائق) وی زیاتره ئې د شپې په تیاره کښې کولی شی په هسی او ښکاره ډول (طریقه) هم سړی له ورځی څخه زیاتره د شپې له مخې د یخنئ او نورو شیانو لامله (له وجې) جامی اغوستلو ته اړ (مجبور) او محتاج کیږی.

وَّجَعَلۡنَا ٱلنَّهَارَ مَعَاشٗا ⑪

او ګرځولې ده مونږ ورځ (وقت د طلب د) معاش (او د کارونو).

**تفسير :** زياتره هر راز (قسم) چارې او ګټې د ورځې له مخې کيږي چه له هغو څخه هر څوک د خپل کور او کهول حوائج او اړتياوې (محتاجي) لرې او خپل زړه داده کوي. د شپې او ورځې په مناسبت د آسمان او لمر خبره هم کيږي يا دا چه د ځمکې په مقابل کښې د آسمان بيان هم کاوه شي.

وَبَنَيۡنَا فَوۡقَكُمۡ سَبۡعٗا شِدَادٗا ⑫

او جوړ کړي دي مونږ د پاسه د تاسي اووه محکم (اسمانونه چه نشته پکښې هيڅ نښه د خلل او د زوال).

**تفسير :** يعنې اووه کلک آسمانونه جوړ شوي دي چه سره له دومره زياتو پيړيو مدتو د تيريدلو اوس هم د پخوا په شان دي او هيڅ يو کندو په کښې نشته او داسې ټينګ او کلک دي چه له سره نه نړيږي او هيڅ يو چاود او درز په کښې نه ښکاري.

وَجَعَلۡنَا سِرَاجٗا وَهَّاجٗا ⑬

او ګرځولې پيدا کړې ده مونږ (په آسمان کښې) ډيوه روښانه .

**تفسير :** يعنې لمر چه تودوخې او رڼا دواړه اوصاف په کښې شته.

وَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلۡمُعۡصِرَٰتِ مَآءٗ ثَجَّاجٗا ⑭

او نازلې راښکته کړې دي مونږ له نښيځونکيو (نچوړونکو) او ورونکيو (وريځو) څخه اوبه ډيرې توئيدونکې پاکې صافي.

**تفسير :** څڅيدونکې وريځې يا ځځولې هواوې.

لِّنُخۡرِجَ بِهِۦ حَبّٗا وَنَبَاتٗا ﴿١٥﴾ وَجَنَّٰتٍ أَلۡفَافًا ﴿١٦﴾

لپاره د دې چه راوباسو مونږ په هغو (اوبو) سره دانې او واښه او باغونه يو له بل سره گڼ نژدې.

**تفسير :** يعني خورا (ډير) گڼ باغونه يا دا چه په يوې ځمكې كښې ئې راز راز (قسم قسم) ونې او باغونه شنه كړې دې.

**تنبيه :** د قدرت عظيم الشاني نښې ئې ويلې او ښكاره كړې ئې دې چه هغه الله جل جلاله چه داسې قدرت او حكمت لرې آيا بيا تاسې نشي ژوندې كولې؟ او د حساب او كتاب دپاره ستاسې پورته كول كومه مشكله او سخته خبره ده بلكه نه ده آيا دا خبره به د هغه له حكمت څخه غلطه نه وې چه دومره لويه دنيا او دير شيان هم داسې گډوډ پريږدې، هيڅ نتيجه او گټه (فائده) ترې څرگنده (ښكاره) نشي؟ په رښتيا سره ښائې چه د دنيا د دې طويلې سلسلې او اوږد لړ پايې او د دې گډو وډو شيانو كومه ښكاره نتيجه هرومرو (خامخا) وې چه هغه ته مونږ (آخرت) وايو. لكه چه وروسته تر خوبه ويښتيا او په شپې پسې ورځ راځې نو هم داسې ويوهيږې. چه په دنيا پسې د آخرت راتلل هم يقينې دې.

إِنَّ يَوۡمَ ٱلۡفَصۡلِ كَانَ مِيقَٰتٗا ﴿١٧﴾

بيشكه ورځ د فيصلې (په مابين د خلقو كښې قيامت دې) وقت (مقرر لپاره د ثواب او عقاب په حكم د رب ستا).

**تفسير :** د فيصلې ورځ به هغه وې چه ښه او بد داسې سره بيخې په كښې بيليږې چه په هيڅ دول (طريقه) اشتراك او اجتماع به پكښې پاتې كيږې. هره نيكې خپل معدن ته او هره بدې خپل مركز ته ورځې. ښكاره ده چه داسې كامل امتياز او افتراق په دې دنيا كښې نشي كيدې. ځكه چه د دې دنيا گرد (تول) موجودات لكه ځمكه آسمان، لمر، سپوږمې، شپې، ويديدل، ويښيدل، ورېځ، وريا، باغ، نارينه ښځه ووړكې او نور د ښو او بدو سريو په منځ كښې سره گډ او مشترك دې. او كافر او مسلمان دواړه له دغو وسائلو او وسائطو نه يو رنگ منافع او گټې اخلې. نو ځكه د دې شيانو د بيلولو دپاره يوه بيلوونكې ورځ يوم الفصل په كار ده چه هغه د دې موجوده نظام عالم په پاى (آخر) كښې ده او د هغه وخت تعين او مقررې د الله تعالىٰ په ازلې او ابدې علم او پوه كښې معين او تاكلې (مقرر) دې. چه د هغه لږ څه تعريف اوس الله اكرم شانه واعظم برهانه دغسې فرمائې چه

يَوۡمَ يُنۡفَخُ فِى الصُّوۡرِ فَتَاۡتُوۡنَ اَفۡوَاجًا ﴿۱۸﴾

هغه ورځ چه وپوکل شي (دوهم ځلي) په صور (شپیلي) کښې نو راځئ به تاسي دلي دلي (له قبرونو نه موقف ته)

تفسیر : یعني دیر زیات غوندونه او فرقې سره تولیږي چه د هغوي ویشونه د هغو په چارو، عقائدو او اعمالو پوري ترلي او مربوط دي.

وَّفُتِحَتِ السَّمَآءُ فَكَانَتۡ اَبۡوَابًا ﴿۱۹﴾

او پرانستلي خیري به شي آسمان (په دغه ورځ د قیامت کښې) نو شي به دروازي دروازي.

تفسیر : یعني آسمان به داسي وپرانیستلي او توتي توتي شي چه له لري به دروازي پکښې ښکاري د دی خبری تائید په یوه بل آیت سره هم کیږي چه د فرقان په دریمی رکوع ځمونږ دغه متبرک تفسیر کښې ئي داسي لولو. ﴿ وَيَوۡمَ تَشَقَّقُ السَّمَآءُ بِالۡغَمَامِ وَنُزِّلَ الۡمَلٰٓئِكَةُ تَنۡزِيۡلًا ﴾

وَّسُيِّرَتِ الۡجِبَالُ فَكَانَتۡ سَرَابًا ﴿۲۰﴾

او روان به کړل شي غرونه نو شي به لکه سراب (شګی ګل ځلیدونکی ځمکه لکه اوبه).

تفسیر : لکه چه په ځلیدونکو شګو باندی له لری ځخه د اوبو ګمان کیږي هم داسي په هغو غرونو باندی فهم اټکل کاوه شي ځکه چه هغه به غرونه نه وي بلکه د شګو ګل (سراب) به وي.

اِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتۡ مِرۡصَادًا ﴿۲۱﴾ لِّلطّٰغِيۡنَ مَاٰبًا ﴿۲۲﴾

بیشکه دوزخ چه ځای د انتظار (د کتو لپاره د تیریدونکیو دی) سرکشو لره د ورتللو او د هستوګنې ځای دی

تفسیر : یعني دوزخ د شریرینو په انتظار کښې دی او هلته د دوی د ورتللو او د هستوګنې ځای دی یا بیشکه دوزخ ځارونکی دی او ځای د تیریدلو د خلقو دی نو مؤمن به تری تیر شي او کافر به پکښې پریوځي.

لَّٰبِثِينَ فِيهَآ أَحۡقَابًا ﴿٢٣﴾

ځند (ایسارتیا) کوونکی به وی دغه (سرکشان) په هغه (دوزخ) کښې ډیری زمانی (بلکه همیشه به په کښې پاتی کیږی.)

تفسیر : چه د شمیرلو میچ ئی نشته سره له دی چه ډیری زمانی او پیری تیریږی خو د دوی مصیبت به پای (آخر) ته نه رسیږی.

لَّا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرۡدًا وَلَا شَرَابًا ﴿٢٤﴾ إِلَّا حَمِيمًا وَغَسَّاقًا ﴿٢٥﴾

نه به څکی دغه (سرکشان) په هغه (دوزخ) کښې سره (هوا اوبه) او نه د څښلو (یخ) څیز. مګر پرته (علاوه) له ډیرو تودو اوبو او بهیدونکیو زوو له وینو سره (د دوزخیانو له زخمونو).

تفسیر : یعنی نه د یخنی راحت او هوسائی (آرام) مومی، نه به د څښلو کوم خوند هغوی ته پیدا کیږی یواځی تودی اوبه وررسیږی چه له هغو څخه د هغوی خولی سوځی او کولمی ئی پری کیږی او له ګیدی څخه د باندی لویږی او بل هغه تکی زیری بهیدونکی زوی وررسیږی چه د نورو دوزخیانو له پرهارو څخه راووځی الله تعالیٰ مو له دی او له نورو دنیوی او اخروی هر راز (قسم) ربړو (تکلیفونو) څخه وساتی.

جَزَآءً وِفَاقًا ﴿٢٦﴾ إِنَّهُمۡ كَانُواْ لَا يَرۡجُونَ حِسَابًا ﴿٢٧﴾
وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا كِذَّابًا ﴿٢٨﴾

جزاء (ورکوله شی دغو سرکشانو ته) موافقه (له اعمالو د دوی سره) بیشکه وو دوی (په دنیا کښې) چه نه ویریده امید هیله ئی نه لرله د حساب (ځکه چه منکر ؤ له بعث نه) او دروغ ئی ګڼل آیتونه ځمونږ

تفسیر : یعنی د هغه شی چه دوی نه ویریدل او هیله (امید) ئی چه دوی نه لرله هم هغه وردمخه شو او هغه خبره چه دروغ ئی بلله پخپلو سترګو ئی ولیدله اوس ګورو چه دوی څنګه تکذیب او انکار کوی.

وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَٰهُ كِتَٰبٗا ﴿٢٩﴾

او هر څيز (له طاعته او معصيته) شميرلي دی مونږ هغه په ليكلو سره (په لوح محفوظ كښې لپاره د جزاء).

**تفسير :** يعنی هر څيز د الله تعالىٰ په ازلی او ابدی علم او پوه كښې شته او د هغه د علم المحيط سره سم د لوح محفوظ په دفتر كښې ليكلی دی هيڅ يو شه او بد كار د الله تعالىٰ د علم له احاطی څخه د باندی نه دی د يوی وړی او ذری پوښتنه او شمير هم كوی. او وبه ويل شی دغو منكرانو سركشانو ته په آخرت كښې په وقت د وقوع د عذاب كښې پر دوی باندی د الله اكرم شانه واعظم برهانه له جانبه داسی چه

فَذُوقُواْ فَلَن نَّزِيدَكُمۡ إِلَّا عَذَابًا ﴿٣٠﴾

پس وڅكئ (سزا خپله) چه له سره نه زياتوو مونږ پر تاسی پرته (علاوه) له عذابه (د پاسه په بل عذاب باندی).

**تفسير :** يعنی همغسی چه تاسی په تكذيب او انكار كښې تيری او وړاندی تګ كوی نو كه بی واكه مرګ او مرينه. تاسی ته درپيښه شی تل به مو هم دا وړاندی تګ وی. اوس د لويو ربړو (تكليفونو) خوند وڅكئ! مونږ به هم ستاسی عذاب داسی زياتوو چه هيڅ تخفيف او سپكتيا به په كښې نه وی. او د يوه عذاب د پاسه به بل عذاب دركاوه كيږی. او دغه آيت ډير سخت دی له آيتونو د قرآنه په حق د دوزخيانو كښې اوس الله تعالىٰ اعظم برهانه و اعلی شانه د مؤمنانو كرامت داسی بيان فرمائی

إِنَّ لِلۡمُتَّقِينَ مَفَازًا ﴿٣١﴾ حَدَآئِقَ وَأَعۡنَٰبٗا ﴿٣٢﴾ وَكَوَاعِبَ أَتۡرَابٗا ﴿٣٣﴾

بيشكه خاص متقيانو ته (په آخرت كښې) ځای د خلاصی بری كاميابی دی باغونه (د ميوی) او د انګورو (ونی) دی او پيغلی انارتيونی همځولی دی.

**تفسير :** يعنی داسی انارتيونی پيمخی پيغلی چه دوی د خپل پيغلتوب، وروستنی ميچ ته رسيدلی وی. او ګردی (تولی) په يوه عمر (منګ) او يوه ونه وی متقيانو ته ورعنايت كيږی.

وَّكَاْسًا دِهَاقًا ﴿٣٤﴾

او (متقیانو ته به جنت کښې د شراب طهور) پیالې ډکې تر څنډو (غاړو) دي.

**تفسیر :** یعنې د پاکو خوړوبې (شراب طهور) به څنډو (کنارو) اوښتې جامونه به پر متقیانو مؤمنانو ور څښولې کیږي.

لَا يَسْمَعُوْنَ فِيْهَا لَغْوًا وَّلَا كِذّٰبًا ﴿٣٥﴾

نه آورې به دغه (جنت کښې متقیان) لغو چټې (بېکاره) خبرې او نه دروغ.

**تفسیر :** یعنې په جنت کښې چټې (بېکاره) خبرې اترې نه وي. او ملنډې نه پکښې اوریدلې کیږي. درواغ او فریب او درغلې (خیانت) به کښې نه وي. نه څوک له چا سره جنګ جنجال کوي ځکه چه هلته د جګړې او شخړې هیڅ یوه پیښه نه وي او نه څه ضرورت ورته واقع کیږي.

جَزَآءً مِّنْ رَّبِّكَ عَطَآءً حِسَابًا ﴿٣٦﴾

(جزاء به ورکوله شي متقیانو ته) جزاء ورکول له ربه ستا نه عطاء ډیره (په حساب د اعمالو سره).

**تفسیر :** یعنې د یوې یوې ذرې شمیر به کیږي او ښه بدل او کافي اجر ئې د دوی د رب او پالونکي له جانبه ورکاوه کیږي. هسې رب اکرم شانه واعظم برهانه.

رَّبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا الرَّحْمٰنِ

چه رب د آسمانونو او (رب د) ځمکې او (رب د) هغو شیانو دی چه په منځ د دغو دواړو (ځمکې او آسمان) کښې دي ډیر مهربان دی.

**تفسیر :** دغه جزاء او بدل یوازې د الله تعالیٰ رحمت او لورینه (مهرباني) ده کنه د هیچا په الله تعالیٰ باندې زور یا پور (قرض) او حق نشته که سرې د خپلو ښو اعمالو او چارو په وسیله له عذاب او ربړو (تکلیفونو) ځخه ځان وژغوري (وساتي) نو دا خو لوی برې او سخت مشکل کار

دی. پاتی شو جنت نو دا پرته (علاوه) د الله تعالیٰ د خالصی لورینی (مهربانی) او فضل او مرحمت څخه مشکل دی. که جنت ځمونږ د ښو چارو په صله او عوض کښی راکوی نو دا د هغه یوه بله مهربانی ذره نوازی او عزت افزائی ده.

لَا يَمْلِكُونَ مِنْهُ خِطَابًا ﴿۳۷﴾

نه به مالکان کیږی (د شفاعت، نه به توانیږی خلق) له دغه (الله) سره د خبرو کولو.

**تفسیر :** یعنی نه به قادریږی هیڅوک چه خبری وکړی له الله سره له ویری یا نه به مالکان کیږی د شفاعت دپاره د چا مگر خو په اذن د الله تعالیٰ، او سره له دومره لطف، مرحمت د هغه الله تعالیٰ عظمت، جلال او لورینه (مهربانی) داسی ده چه هیڅوک د الله تعالیٰ په مخ کښی خبری نشی کولی او شوندی نشی خوځولی.

يَوْمَ يَقُومُ الرُّوحُ وَالْمَلَائِكَةُ صَفًّا

په هغی ورځی (د قیامت) کښی چه ودریږی روح او د ملائکو صفونه صفونه.

**تفسیر :** له روح څخه مقصد گرد (تول) ساکښان (جاندار) دی یا به له هغه څخه (روح القدس) مراد وی چه حضرت جبریل علیه السلام دی. او د ځینو مفسرینو په تصور او جاج له دی څخه لوی روح (روح الاعظم) مراد ده چه ډیر ارواح له هغه څخه جوړ او منشعب شوی دی. والله اعلم.

لَا يَتَكَلَّمُونَ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمَٰنُ وَقَالَ صَوَابًا ﴿۳۸﴾

نه به کوی خبری (هیڅوک له ویری په باب د شفاعت کښی مگر) پرته (علاوه) له هغه چه اذن حکم وکړی ده ته رحمٰن (د خبرو یا د شفاعت) او ویلی ئی وی صواب ښه خبره (په دنیا کښی چه لا اله الا الله ده).

**تفسیر :** یعنی په هغه دربار کښی هر څوک هر څه چه وائی د هغه الله تعالیٰ په اذن او حکم اشاره وائی او څه چه وائی هم داسی خبری کوی چه د ویلو او کولو وړ (لائق) او خورا (ډیر) (درستی) او معقولی وی. لکه د کوم غیر مستحق سپارښت نه کوی په هغه ورځ کښی او د الله تعالیٰ په حضور کښی به د سپارښت وړ (لائق) یواځی هغه څوک کیدی شی چه په دنیا کښی له

ښتينو او جوټو خبرو څخه زياتره ښتيا او جوټي خبري ئې له خولې څخه وتلې وي او د «لا اله الا الله» پاکه کلمه ئې ويلې وي يعني مسلمان وي نه کافر ولې چه نه کوی شفاعت مگر خو د مستحق مومن ای الله تعالیٰ تل دا کلمه ځمونږ په ژبو جاری لره!.

ذٰلِكَ الْيَوْمُ الْحَقُّ ۚ فَمَنْ شَآءَ اتَّخَذَ إِلٰى رَبِّهٖ مَاٰبًا ﴿٣٩﴾

دا هغه ورځ ده حقه پس هر هغه چه اراده وکړی نيسی طرف د رب خپل ته مرجع (ځای د ورتلو په طاعت سره پس ودی نيسی څو مأمون شی له عذابونو).

**تفسير :** يعنی هغه د قيامت ورځ خامخا راتلونکی ده اوس هر هغه څوک چه خپلی ښه او بهتری غواړی ښائی چه د هغی ورځی دپاره ځان تيار کړی او په زړه پوری تياری ورته ونيسی!.

إِنَّآ أَنْذَرْنٰكُمْ عَذَابًا قَرِيبًا ۖ ۚ يَّوْمَ يَنْظُرُ الْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدٰهُ وَيَقُولُ الْكٰفِرُ يٰلَيْتَنِي كُنْتُ تُرٰبًا ﴿٤٠﴾

بيشکه مونږ چه يو ويروو مونږ تاسی (ای کفارو) له يوه عذاب راتلونکی نژدی څخه (چه عذاب د آخرت دی) هغه ورځ چه وبه وينی هر سړی هر هغه څه چه په مخ کښی ليږلی ده دواړو لاسو د ده (عمل د خير وی که د شر جزاء به ئې مومی) يعنی ښه او بد، وړاندنی، وروستنی چاری او اعمال ئې وروړاندی کيږی. او وبه وائی کافر (په ورځ د قيامت کښی) کاشکی چه وی زه خاوری.

**تفسير :** يعنی کاشکی زه خاوری وی په دنيا کښی چه هيڅ کله پيدا شوی نه وی! ځکه چه د هم دغه پيدايښت له سببه د حساب او کتاب په عذاب اخته شوی يم او چا ويلی دی خاوری شوی وی په دی ورځ کښی چه هيڅ بيا پيدا شوی نه وی.

**تمت سورة النبإ بفضل الله تعالى ومنه وكرمه**

سورة النازعات مكية وهي ست و اربعون آية و فيها ركوعان رقم تلاوتها (٧٩) تسلسلها حسب النزول (٨١) نزلت بعد سورة «النبإ»

د «النازعات» سورت مکی دی (٤٦) آيته (٢) رکوع لری په تلاوت کښی (٧٩) په نزول کښی (٨١) سورت دی وروسته د «النبإ» له سورت څخه نازل شوی دی.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډير زيات مهربان پوره رحم لرونکی دی

وَالنّٰزِعٰتِ غَرۡقًا ۙ﴿۱﴾ وَّالنّٰشِطٰتِ نَشۡطًا ۙ﴿۲﴾

قسم دی (په ملائکو) سخت وښکونکيو (ارواحو د کفارو لره) سخت وښکل (او قسم دی) په ملائکو آسان وښکونکيو (ارواحو د مؤمنانو لره آسان وښکل)

**تفسير :** يعنی قسم دی په هغو پرښتو باندی چه د کافرانو په رګونو کښی ورننوځی او د هغوی ارواح په راښکلو سره له سرونو د ګوتو او نوکونو نه په ډيره سختئ سره وباسی يا قسم دی په ستوريو ځغليدونکيو باندی له مشرق نه مغرب ته.
(﴿وَّالنّٰشِطٰتِ نَشۡطًا﴾: او قسم دی په ملائکو وښکونکيو ارواحو د مؤمنانو لره آسان وښکل)
يعنی هغه پرښتی چه له مؤمنانو څخه د روح غوټه پرانيځی او بيا دوی په ډيری خوښی سره د پاکی نری په لوری ورځغلی. خو په ياد ئی ولرئ چه دا ذکر د روح دی او د بدن نه دی لنده ئی دا چه ښه سړی په ډيری خوښی سره د پاکی نری په لوری ورځغلی او بد سړی تری تښتی نو ئی په راښکودلو سره بيرته بيائی يا قسم دی په هغو ستوريو باندی چه وځی له يوه برجه بل برج ته.

وَّالسّٰبِحٰتِ سَبۡحًا ۙ﴿۳﴾ فَالسّٰبِقٰتِ سَبۡقًا ۙ﴿۴﴾

او (قسم دی) په تيزو غوټه وهونکيو (ملائکو په تعميل د احکام الله) تيز غوټه وهل نو قسم دی په وړاندی کيدونکيو (ملائکو) باندی وړاندی کيدل (په ارواحو د مؤمنانو جنت ته).

**تفسير :** يعنی هغه پرښتی چه روح له ځان سره اخلی او د ځمکی څخه د آسمان په لوری په داسی سرعت او سهولت سره ځغلی لکه چه بی له کوم تکليفه په اوبو باندی ګرندی لامبو وهی بيا نو د دی ارواحو په باره کښی هر هغه امر چه د الله تعالیٰ له خوا کيږی د هغه په ځای راوړلو ته په دير شوق، ذوق او تلوار سره ورځغلی يا قسم دی په تسبيح ويونکی باندی په تسبيح ويلو سره يا په هغو ستوريو باندی قسم دی چه وړاندی کيږی يو له بل نه په تللو راختلو او نورو.

فَالْمُدَبِّرٰتِ اَمْرًا ﴿٥﴾

پس (قسم دی) په تدبير جوړوونكيو (ملائكو) د حكم د الله (په دنيوى چارو كښې جواب د قسم دا دی چه خامخا به راپورته كړی شئ تاسی لپاره د حساب او كتاب).

**تفسير** : يعنى وروسته له هغه د دی ارواحو په نسبت كه د ثواب حكم كيږی كه د عقاب د دی دواړو احكامو تدبير او انتظام په هم دغو پرښتو پوره اړه (تعلق) لری. او د هر حكم په كولو سره مشغوليږی، يا به مطلقاً له هغو پرښتو څخه مراد وی چه د عالم تكوين په انتظام او تدبير باندی مسلطی دی، ښكاره خبره خو هغه ړومبنی خبره ده. د «النازعات» او د «الناشطات» او د نورو داسی كلمو د تعيين په نسبت نورى خبرى او اترى هم ډيرى كيږی او د هغو په تعيين او تاكلو (مقررولو) كښې ډيرى ويناوی دی نو خو مونږ د الله بنيلى مترجم په خوښه (مذاق) دا خبرى ليكلى دی لكه چه پاس مو په ترجمه كښې اشاره وكړله. جواب د دی قسمونو محذوف دی يعنى قسم دی چه خامخا به راپورته كړی شئ تاسو لپاره د حساب او كتاب.

يَوْمَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ ﴿٦﴾ تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ ﴿٧﴾

هغه ورځ چه ولړځيږی لړځيدونكى (چه اوله شپيلى ده) پس راځى پس له دی نه هغه وروسته راتلونكى (چه ثانى نفخه ده)

**تفسير** : يعنى د قيامت ورځ كښې به ولړځيږی غرونه او ځمكه له اول ځلى شپيلى او صور له پوكلو څخه. حضرت شاه صاحب ليكى چه پرله پسى ځمكه لړځيږی ډيرو مفسرينو له «رادفة» څخه مراد دوهم صور او شپيلى اخيستى دی. والله تعالىٰ اعلم. او په منځ د دواړو نفخو كښې به څلويښت كاله وی چه په اوله شپيلى سره تول مخلوقات مری او په دوهمه شپيلى سره به گرد (تول) مخلوقات بيا ژوندی كيږی.

قُلُوْبٌ يَّوْمَئِذٍ وَّاجِفَةٌ ﴿٨﴾ اَبْصَارُهَا خَاشِعَةٌ ﴿٩﴾

زړونه (د منكرانو د بعث) په هغى ورځى كښې به بى قراره رپيدونكى ويريونكى وی. سترگى د هغو به سپكى ذليلى ښكته وی (له ويری).

**تفسير** : يعنى د پريشانى او ويريدلو له سببه به زړونه رپيږی او ځانونه به لړځيږی د دوی سترگى

به خواری او سپکی او شکته وی او د ذلت او ندامت او پښیمانی ګردی (تولی) نښی به په هغوی کښی له لری ښکاری.

يَقُولُونَ ءَإِنَّا لَمَرْدُودُونَ فِي الْحَافِرَةِ ﴿١٠﴾ ءَإِذَا كُنَّا عِظَامًا نَّخِرَةً ﴿١١﴾ قَالُوا تِلْكَ إِذًا كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ ﴿١٢﴾

وائی به (دغه منکران د بعث تمسخراً) آیا مونږ به بیا وګرځولی شو په رومبی حالت (بیا به ژوندی کیږو؟) آیا کله چه وګرځو مونږ هډوکی زاړه ریژیدونکی (نو بیا به هم ژوندی کیږو؟) وویل (منکرانو تمسخراً) دغه (ګرځیدل ځمونږ ژوندون ته) په هغه وقت کښی ګرځیدل نقصانمن زیانمن دی.

**تفسیر :** یعنی د هډیری په ژوره (خکته) کښی له خښیدلو څخه وروسته به بیا څنګه مونږ ژر تر ژره بیرته ژوندی کیږو؟ مونږ خو په دی خبری نښو پوهیدی چه په رژیدلی زاړه هډوکی کښی به بیا څنګه روح ننوځی؟ که داسی کومه پیښه وشی نو بیا به ژوندی کیدل ډیر ضرر لرونکی او زیانمن وی. ولی چه مونږ هغه ژوندون لره څه تیاری نه دی کړی او هیڅ شی او سامان نه ورته لرو. دا خبری دوی په ملندو او مسخرو سره کوی او داسی ښکاروی چه مسلمانان ځمونږ په نسبت داسی ویناوی کوی او حال دا دی چه تر مرینی وروسته بیا هیڅ ژوندون نشته نو د دی ژوندون او زیان خبره بالکل مهمله او چتی (بیکاره) ده. نو بیا فرمائی الله اکرم شانه واعظم برهانه چه سخت مه ګڼئ قیامت ځکه چه

فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَاحِدَةٌ ﴿١٣﴾ فَإِذَا هُم بِالسَّاهِرَةِ ﴿١٤﴾

پس بیشکه دا (ثانی نفخه) خو پوکل یو دی (ډیرآسان چه پری ژوندی کیږی ګرد (تول) مخلوقات) پس ناڅاپه وی به دغه (خلق تول) په مخ د ځمکی (پس له مرګه).

**تفسیر :** ځینی د «ساهرة» مصداق شام بولی او ځینی ئی د دوزخ نوم ګڼی یعنی منکر خلق دا خبره ډیر سخته ګڼی. او حال دا دی چه داسی چاری پاک الله ته ډیری آسانی دی تر دی چه د یوی سلګی وهلو په میچ دا ګردی (تولی) چاری کیدونکی دی. یعنی د یوی چغی او د صور په پوکلو سره بی له ډیله ګرد (تول) پخوانی او وروستنی مری له ځمکی څخه د حشر په ډګر کښی سره تولیږی. وروسته له دی یوه لنده خبره او لږ په قهر کیده دوی ته وربه یادوی چه په جهان او

نړی کښې یو لوی متکبر او خورا (ډیر) لوی باچا ته کړی شوی وه او منکرینو ته دا پیښه ور په زړه کوی چه له تاسو څخه د مخه د نورو منکرانو او متکبرانو او کافرانو حال څرنګه ؤ؟ او په څه څه جزاؤ رسیدلی دی؟.

هَلْ أَتٰىكَ حَدِيْثُ مُوْسٰى ﴿١٥﴾

آیا راغلی ده تاته (ای محمده! بلکه بیشکه رسیدلی ده تاته ای محمده!) خبره د موسیٰ (چه پری متسلی شی ای محمده! او زیری ورکړی مؤمنانو ته په نعیم او منکرانو ته په جحیم).

**تفسیر** : دا قصه په څو څو ځایونو کښې په تفصیل سره ذکر شوی ده. یعنی په تحقیق راغلی ده تاته خبره د دغه موسیٰ.

إِذْ نَادٰىهُ رَبُّهٗ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى ﴿١٦﴾

کله چه ور غږ کړ دغه (موسیٰ) ته رب د ده په پاکه کنده میدان د طویٰ کښې.

**تفسیر** : یعنی د طور له غره سره نژدی. او موسیٰ ته الله اکرم شانه واعظم برهانه دغسی امر وفرمایه چه.

اِذْهَبْ إِلٰى فِرْعَوْنَ إِنَّهٗ طَغٰى ﴿١٧﴾ فَقُلْ هَلْ لَّكَ إِلٰى أَنْ تَزَكّٰى ﴿١٨﴾ وَأَهْدِيَكَ إِلٰى رَبِّكَ فَتَخْشٰى ﴿١٩﴾

لاړ شه (په رسالت زما) طرف د فرعون ته چه بیشکه ده سر غړولی (تجاوز ئی کړی) دی (له احکام الله). نو ووایه ورته آیا مینه لری ته په طرف د دی چه پاک شی له شرک او معاصی نه). او (رغبت لری دی ته چه) لاره دروښیم تاته طرف د رب ستا ته پس وویریږی ته (له عذابه).

**تفسیر** : یعنی که ته خپل ښه والی او اصلاح غواړی، نو زه د الله تعالیٰ په امر ستا اصلاح

کولی شم، او داسی لاره درښیم چه پر هغې باندې له تللو څخه ستا په زړه کښې د الله تعالیٰ ویره او د هغه کامل معرفت ټینګ شي، ځکه چه د ویرې شته والي بې له پوره معرفت متصور نه دی. ښکاره شوه چه د حضرت موسیٰ علیه السلام له بعثت څخه مقصد د فرعون اصلاح هم وه او یواځې د بنیاسرآئیلو نجات او ژغورنه (ساتنه) له قیده نه وه. پس موسیٰ علیه السلام فرعون ته ورغې او هغه ته ترې معجزه وغوښته.

فَأَرَىٰهُ ٱلْءَايَةَ ٱلْكُبْرَىٰ ﴿٢٠﴾

پس وښودله (موسیٰ) دغه (فرعون ته) معجزه لویه (همسا او سپین لاس او نور).

**تفسیر** : یعني هلته رسیدلی د الله تعالیٰ پیغام ئې ورساوه. او موسیٰ فرعون ته د حجت د تمامولو دپاره له ګردو (ټولو) څخه لویه معجزه له همسا ځنې د ښامار جوړول وروښودل.

فَكَذَّبَ وَعَصَىٰ ﴿٢١﴾ ثُمَّ أَدْبَرَ يَسْعَىٰ ﴿٢٢﴾

پس تکذیب وکړ (فرعون د موسیٰ) او وئې نه مانه بیا ئې شا کړه (له ایمانه) لاړ په ډیره بیړه سره (په فساد پسې)

**تفسیر** : یعني هغه ملعون فرعون نه وو منونکی. او په دې فکر کښې ولګید چه ډیر سرې سره راټول کړي او کوډګران ولټوي او پر دې باندې ئې وګماري چه د موسیٰ علیه السلام د معجزاتو مقابله په سحر سره وکړي.

فَحَشَرَ فَنَادَىٰ ﴿٢٣﴾ فَقَالَ أَنَا۠ رَبُّكُمُ ٱلْأَعْلَىٰ ﴿٢٤﴾

پس (فرعون ګرد (ټول) ساحران) راټول کړل پس غږ ئې وکړ. پس وویل (فرعون داسې چه) زه رب پالونکی ستاسې یم ډیر لوی لوړ (اوچت).

**تفسیر** : یعني له ګردو (ټولو) څخه لوی رب خو زه یم نو دا موسیٰ علیه السلام د کوم رب رسول او استاځی دی؟ معاذ الله.

فَأَخَذَهُ ٱللَّهُ نَكَالَ ٱلْءَاخِرَةِ وَٱلْأُولَىٰٓ ﴿٢٥﴾

پس ونیو دغه (فرعون لره) الله په عذاب (د حرق) د آخرت او (په عذاب د غرق د دنیا.

**تفسیر** : یعني دلته د دنیا په اوبو کښي ډوب شو او هلته د عقبیٰ په اور کښي سوځي.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّمَن يَخْشَىٰ ﴿٢٦﴾

بیشکه په دغه (اغراق او احراق) کښي خامخا عبرت دی هغه چا لره چه ویریږي (له الله نه).

**تفسیر** : په دی قصی کښي ډیری خبری د سنجولو (فکر کولو) او عبرت او نصیحت اخیستلو دپاره شته په دی شرط چه د سړی په زړه کښي لږ څه د الله تعالیٰ ویره وي.
(ربط): د موسیٰ علیه السلام او د فرعون قصه په منځ کښي استطراداً راغلی ده. وروسته له دی نه بیا هغه مضمون د قیامت په لوری اوړي. لکه چه اوس د قیامت منکرانو ته الله اکرم شانه واعظم برهانه داسی فرمائی

ءَأَنتُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمِ السَّمَاءُ ۚ بَنَاهَا ﴿٢٧﴾

آیا تاسی ډیر سخت یئ د پیدائښت لامله (له وجی) که آسمان؟ جوړ کړی دی (الله) دغه (آسمان).

**تفسیر** : یعني د تاسی پیدا کول هغه هم وروسته له دی نه چه یو ځلي پیدا شوی یئ له ځمکی او آسمانونو او غرونو او سیندونو او نورو موجوداتو څخه ګران دی. کله چه تاسی د داسی لویو لویو شیانو خالق او مالک الله تعالیٰ پیژنی، بیا نو په خپلو بیا پیدا کیدلو کښي ولی تردد او شبهه لرئ!. جوړ کړی دی الله آسمان.

رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوَّاهَا ﴿٢٨﴾ وَأَغْطَشَ لَيْلَهَا وَأَخْرَجَ ضُحَاهَا ﴿٢٩﴾

پورته کړی دی (الله) چت لوړوالی (اوچتوالی) د هغه (آسمان) نو سم صاف بی عیبه ئی کړ. او توره تیاره ئی کړه شپه د دغه (آسمان) او راوئی ایسته ورځ رڼا د دغه (اسمان).

**تفسیر :** یعنی په آسمان کښې فکر ووهئ! چه څومره زیات هسک او اوچت دی؟ څرنګه کلک او مضبوط دی؟ په څه اندازه منظم او مرتبې عیبه او بې نقصانه دی؟ څنګه صاف او هوار دی؟ څه دول (طریقه) انتظام او تدوین او ترتیب د هغه په موجوداتو او مربوطاتو کښې شته؟ د هغه له لمر او سپوږمی او ستوریو څخه څومره ګټی (فائدی) اخلی؟ او په څه اندازه د اوقاتو او اطرافو په پیژندلو او نورو شیانو کښې ورځنی ګټور کیږئ! د آسمان ننداری ته د ورځی له خوا او د شپې له خوا بیل بیل ځیر شئ چه څرنګه دربنکاری. او د تعجب او د حیرت وړ (لائق) در بریښی؟.

وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَاهَا ﴿۳۰﴾

او ځمکه وروسته له دغه (پیدایښت د آسمان) صافه وغوړوله (الله) دا (ځمکه).

**تفسیر :** یعنی د ځمکی او د آسمان له منځه کوم یو وړاندی او کوم یو وروسته جوړ شوی دی؟ د دی په نسبت وړاندی له دی نه په بل کوم ځای کښې څه خبری شوی دی ځمونږ د دغه تفسیر د حٰمٓ السجدة سورت وګورئ!.

**تنبیه :** «راغب» د «دحیٰ» معنی د یوه شی له خپل اصلی ځای څخه بیرته کول او په بل ځای کښې کیښودل لیکلی دی. نو ښائی له دی لفظ څخه دلته د هغو تحقیقاتو په لوری اشاره وی چه نن ورځ د پوهانو تحقیقات دی ځای ته رسیدلی دی چه ځمکه په اصل کښې د کوم لوی سماوی جرم کومه برخه ده چه له هغه څخه بیله شوی ده والله تعالیٰ اعلم بالصواب. اوس الله اعلیٰ شانه واعظم برهانه د ځمکی د غوړولو لړ څه نور تشریح داسی فرمائی

أَخْرَجَ مِنْهَا مَاءَهَا وَمَرْعَاهَا ﴿۳۱﴾

را ایستلی دی (الله) له دغی (ځمکی) څخه اوبه د دی او واښه ورشو د دی.

**تفسیر :** یعنی الله تعالی سیندونه او چینی بیولی دی او د هغو اوبو په وسیله ئی قسم قسم نباتات، واښه پیدا کړی دی

وَالْجِبَالَ أَرْسَاهَا ﴿۳۲﴾

او غرونه (په مخ د ځمکی) ودرول ثابت محکم کړل (الله) هغه (غرونه)

**تفسیر :** چه له خپل ځای څخه نه خوځیږي. او د ځمکې مخصوص اضطرابات او خوځیدل ئې هم ورک کړي دي او دغه اثبات د ځمکې او جریان د اوبو پرې او ایستل د محصولاتو ترې کړی دی الله اکرم شانه واعظم برهانه.

مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعَامِكُمْ ﴿۳۳﴾

دپاره د نفعې ستاسې او دپاره د نفعې د چارپایانو ستاسې (ای بندګانو ځما!)

**تفسیر :** یعنې که دا انتظام نه وي نو ستاسې او ستاسې د حیواناتو چارې به څرنګه پوره کیدې؟ د دې ګردو (ټولو) شیانو له پیدا کولو څخه ستاسې د اړتیاؤ (احتیاج) پوره کول راحت او هوسائی (آرام) رسول او نورې ګټې مراد دي. نو ښائې چه تاسو د هغه حقیقي منعم شکر اداء کړئ او وپوهیږئ چه هغه حکیم برحق او قادر مطلق چه داسې لوړ (اوچت) انتظامات او لوی ترتیبات کولی شي د تاسو په رژیدلو هډوکیو کښې هم روح پوکلی شي ښائې چه سرې د الله تعالیٰ د قدرت اقرار وکړي او د ده د نعمتونو شکر په ځای راوړي! که نه د قیامت په ورځ سخت پریشان او خپه کیږي کله چه د ده ګرد (ټول) اعمال وروړاندې شي او د افسوس او د حسرت ګوتې وچیچي. لکه پخپله الله اکرم شانه واعظم برهانه داسې فرمائي:

فَإِذَا جَاءَتِ الطَّامَّةُ الْكُبْرَىٰ ﴿۳۴﴾ يَوْمَ يَتَذَكَّرُ الْإِنسَانُ مَا سَعَىٰ ﴿۳۵﴾ وَبُرِّزَتِ الْجَحِيمُ لِمَن يَرَىٰ ﴿۳۶﴾

پس کله چه راشي آفت بلاء لویه (قیامت یا وقت د ورتګ د کفارو جحیم ته او د مؤمنانو نعیم ته) په هغه ورځ به یاد کړي انسان هغه څه چه کړي ئې وي (که خیر وي یا شر په دنیا کښې) او ښکاره (څرګند) به کړی شي دوزخ هر هغه چاته چه ویني ئې (د لیدلو خاوند وي).

**تفسیر :** یعنې دوزخ به داسې په عام منظر کښې راوویست شي چه هر لیدونکی به ئې ویني او هیڅ یو غر او یوه پرده به په منځ کښې نه وي.

فَاَمَّا مَنْ طَغٰى ﴿۳۷﴾ وَاٰثَرَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴿۳۸﴾

پس هر هغه چه سرکشي کړي وي (په کفر سره) او غوره کړي ئې وي ژوندون لږ خسيس (پر آخرت باندي).

**تفسير** : يعني دنيا ته پر آخرت باندي ترجيح ورکوي او هغه ښه ګڼي او غوره کوي ئې او آخرت بالکل هيروي.

فَاِنَّ الْجَحِيْمَ هِيَ الْمَاْوٰى ﴿۳۹﴾ وَاَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ
وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوٰى ﴿۴۰﴾ فَاِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَاْوٰى ﴿۴۱﴾

پس بيشکه دوزخ هم دا (دوزخ د ده) د هستوګنې ځاى دى او هر هغه څوک چه ويريږي له ودريدلو (په مخ د) رب خپل او منع کړي ئې وي نفس خپل له هوا فاحشاتو بدو غوښتنو څخه نو بيشکه جنت هم دا (جنت د ده) د هستوګنې ځاى دى.

**تفسير** : يعني هغه څوک چه د دې خبرې لامله (له وجې) ويريږي چه زه يوه ورځ د الله تعالىٰ په مخ کښې د حساب او کتاب دپاره دريږم. او د دې ويرې لامله (له وجې) ئې د خپل نفس په خواهش ناکاره کار ونه کړ، او د الله تعالىٰ ګرد (ټول) احکام ئې ومنل. او له نواهيو څخه ئې ځان وژغوره (وساته)، نو د هغه ځاى خامخا په جنت کښې دى.

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ السَّاعَةِ اَيَّانَ مُرْسٰىهَا ﴿۴۲﴾

پوښتنه کوي له تا څخه (اى محمده! منکران) د قيامت چه کله به وي وقوع د هغه (قيامت).

**تفسير** : يعني اى محمده! منکران پرله پسې له تانه دغسې پوښتنې کوي چه آخر هغه ګړى کله راځي؟ او قيامت به کله راښکاره شي؟ او حساب او کتاب به کله قائميږي؟.

فِيْمَ اَنْتَ مِنْ ذِكْرٰىهَا ﴿۴۳﴾ اِلٰى رَبِّكَ مُنْتَهٰىهَا ﴿۴۴﴾

په څه کښې ئې ته (ستا څه کار دی) له ذکره پوهيدلو څخه د هغه (قيامت څخه بلکه تا لره علم نشته) خاص رب ستا ته ده انتهاء د دغه (علم د قيامت چه کله به وی)

تفسير : يعنی د هغه پوره ورښوول ستا کار نه دی که هر څومره پوښتنی وشی هيڅچا ته دا پته خبره ښکاره کيدونکی نه ده او د دی کار پوره علم الله تعالیٰ ته معلوم دی. حضرت شاه صاحب ليکی چه له ديرو پوښتنو څخه هم دی ځای ته رسيدلی دی چه پرته (علاوه) له الله اکرم شانه واعظم برهانه نور ګرد (تول) خلق تری بی خبر دی.

إِنَّمَآ أَنتَ مُنذِرُ مَن يَخْشَىٰهَا ﴿٤٥﴾

بيشکه ته (ای محمده) ويروونکی ئی د هغه چا چه ويريږی له (عذاب د) هغه (قيامت) نه.

تفسير : يعنی ای محمده ستا کار د قيامت د خبرو اورول او د خلقو ويرول دی که د چا په زړه کښې د بلی ورځی څه ويره وی يا د آخرت د ويری استعداد پکښې وی نو هغه به ويريږی او د قيامت له خوفه ورته تياری کوی ګواکی ستا د ويرولو د نتيجی اعتبار يواځی د هغو کسانو په حق کښې دی چه له هغو څخه د ګټی (فائدی) اخيستلو اميد وی او اهليت ئې لری، که نه نااهل سری له انجامه غافل شوی هم داسی په فضولو بحثونو کښې لويږی چه قيامت به کله او په کوم تاريخ او په کوم کال کښې واقع کيږی؟.

كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوٓا۟ إِلَّا عَشِيَّةً أَوْ ضُحَىٰهَا ﴿٤٦﴾

ګواکی دغه (منکران) په هغی ورځی کښې چه ووينی دغه (قيامت داسی به ګنی) لکه چه نه ئې ؤ کړی ځنډ (ايسارتيا) (په دنيا يا قبورو خپلو کښې) مګر (په قدر د) ماښام آخر د ورځی يا په قدر د څاښت.

تفسير : يعنی اوس خو شور لګوی چه د قيامت په راتلو کښې ولی دومره ځنډ (ايسارتيا) او ديل وشو؟ ولی ژر نه راځی؟ مګر په هغه وقت کښې به دوی ته څرګنده (ښکاره) شی چه قيامت خورا (دير) ژر راغلی او هيڅ معطلی او ديل په کښې پيښ شوی نه دی.

**تمت سورة النازعات بفضل الله تعالیٰ ومنه وكرمه**

سورة عبس مكية وهى (٤٢) آية وفيها ركوع واحد رقمها (٨٠) تسلسلها حسب النزول (٢٤) نزلت بعد سورة النجم

د «عبس» سورت مكى دى (٤٢) آيته (١) ركوع لرى په تلاوت كښى (٨٠) په نزول كښى (٢٤) سورت دى وروسته د «النجم» له سورته نازل شوى دى.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ۝

شروع كوم په نامه د الله چه ډير زيات مهربان پوره رحم لرونكى دى

حضرت رسول اكرم صلى الله تعالىٰ عليه وسلم د قريشو له ځينو غټانو سره د اسلام په نسبت څه خبرى كولى او دوى ئى پوهول په دى منځ كښى يو ړوند مسلمان عبد الله بن ام مكتوم رضى الله تعالىٰ عنه د دوى په خدمت ورحاضر شو او د رسول الله صلى الله عليه وسلم توجه ئى ځان ته ورآړوله چه «يا رسول الله د دى آيت مراد څه دى؟ ماته له هغه څخه يو څه راوښيئ همغسى چه الله تعالىٰ تاته درښوولى دى!» حضرت د دى ړانده له دى بى وخته پوښتنى څخه لږ خپه شو او ښائى چه د ده مبارك په زړه كښى داسى كومه خبره هم تيره شوى وى چه زه اوس په مهمو خبرو كښى مشغول او بوخت يم كه د قريشو دا غټان په ښه ډول (طريقه) وپوهولى شم ګوندى وى چه دوى د اسلام په لورى راشى او د دوى له سببه نور ډير كسان هم مسلمانان شى او حال دا دى چه عبد الله بن ام مكتوم مسلمان دى او د هغه دپاره نور ډير وقتونه هم شته چه په هغو كښى خپلى داسى پوښتنى وكرى او تعليم حاصل كرى هغه نه ګورى چه كه زه له دغى بااثرو او بارسوخو خلقو څخه سترګى واړوم او ده ته التفات وكړم نو ځما دا وضعيت به په هغو باندى لږ شاق تير شى او شايد چه هغوى به بيا ځما خبرو ته لكه اوس غوږ ونه نيسى. لنده ئى دا چه دوى منقبض شول او د انقباض نښى د دوى په وچولى (تندى) كښى ښكاره شوى په دى خبره باندى دا آيت نازل شول. په رواياتو كښى راغلى دى چه وروسته له دى كله به چه دغه ړوند د حضرت رسول الله صلى الله عليه وسلم په مخ كښى راتللو نو دوى به د ده زيات تعظيم كاوه او ورته ويل به ئى «مرحبا بمن عاتبنى فيه ربى».

عَبَسَ وَتَوَلّٰٓى ۝١ اَنْ جَآءَهُ الْاَعْمٰى ۝٢

وچولى (تندى) تريو كړ (محمد) او مخ ئى وګرځاوه د دى لامله (له وجى) چه راغى ده ته ړوند (عبد الله او قطع ئى كړ كلام د محمد په منځ د ده او

د اشرافو د قریشو کښې)

**تفسیر :** یعنې د پیغمبر په وچولی (تندی) کښې د یوه ړانده له راتللو څخه گونځې ولویدی او خپل مخ ئې تری واړاوه او ښائی چه ده ته د دی ړانده د معذوری د مات زړه او د طلب صادق لحاظ کول ډیر په کار و حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «دا خبره گواکې د نورو په مخ کښې له حضرت رسول صلی الله علیه وسلم څخه گله ده نو ځکه ئې د غائب په صیغه ذکر کړی دی په مخ کښې ئې پخپله رسول صلی الله علیه وسلم ته خطاب فرمایلی دی» محققین وائی چه دا د متکلم د تکرم او د استعیاء او د مخاطب د زیات شرافت او کرامت ښه ده چې د عتاب په وقت کښې هم مخامخ د دی خبری نسبت نه ورته کوی او په مخ کښې د خطاب په صیغه د التفات صنعت خطاب ورته کوی چه د اعراض شبهه ورکه شی. برسیره په دی هغه خبره له پخوانی خبری څخه نرمه پسته ده. والله اعلم.

وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّهُ يَزَّكَّىٰٓ ﴿٣﴾ أَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنفَعَهُ ٱلذِّكْرَىٰٓ ﴿٤﴾

او څه شی پوه کړی ئې ته (ای محمده له احواله د دی ړانده) ښائی چه هغه (ړوند) به پاک شی (په تعلیم د تا له معاصیو له بدو اخلاقو) یا به ذکر پند واخلی پس نفع به ورسوی ده ته ذکر پند (د تا).

**تفسیر :** یعنې هغه ړوند طالب صادق وه تاسی ته څه معلومه ده چه ستاسی د توجه له فیضه به د هغه حال زیات اصلاح کیده او د هغه نفس به لا پاکیده. یا به ستاسی کومی خبری د دوی په غوږونو کښې ځای نیوه ښائی چه ستاسی په اخلاص پوهولو څخه به هغه په یوه شی پوهیده او بله ورځ به ورته په کار ورتله.

أَمَّا مَنِ ٱسْتَغْنَىٰ ﴿٥﴾ فَأَنتَ لَهُۥ تَصَدَّىٰ ﴿٦﴾ وَمَا عَلَيْكَ أَلَّا يَزَّكَّىٰ ﴿٧﴾

او هر هغه څوک چه استغناء ئې کړی ده (پروا نه کوی د هدایت) نو ته هغه ته قصد کوی (د هغه د مسلمانی په فکر کښې ئې) او نشته پر تا باندی هیڅ الزام چه هغه پاک نشی (په اسلام سره).

**تفسیر :** یعنې هغه خلق چه د خپلی مغروری او متکبری او لوئی په سبب د حق پروا نه لری او لوئ هغوی ته اجازه نه ورکوی چه الله تعالیٰ او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته سر ښکته کړی، ته ولی په هغوی پسی گرځې او غواړی چه هرومرو (خامخا) هغوی مسلمانان شی او د هغوی د

اسلام اثر په نورو هم ولویږي. حال دا دی چه د الله تعالیٰ له پلوه (طرفه) پر تاسی باندی هیڅ یو الزام نشته چه دا متکبر مغرور او لوئی خوښوونکی سړی ولی په لاره نه دی راغلی؟ په تاسی دا فرض ؤ چه هغوی ته دعوت او تبلیغ وکړی او دا کار تاسی وکړ زیات له دی نه د دی بی پروا متکبرانو په فکر کښی په دی اندازی لویدل په کار نه دی چه رښتینی طالبان او مخلص ایمانداران ستاسی له توجه څخه بی برخی پاتی شي. یا د داسی معاملی ظاهری سطحی ته کتلی، د خلقو په زړونو کښی داسی یو خیال پیدا شي چه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم زیاده توجه لویانو بدایانو ته ده او غریبانو او بی وځلو ته ئی فکر نشته. د داسی چتی (بیکاره) خیالاتو له خوریدلو څخه هغه بد اثرونه چه د اسلام په عام دعوت باندی لویږی له دی ګټی (فائدی) څخه خورا (دیر) زیات تاوان لری چه تاسی د دی څو متکبرانو غتانو له مسلمانی څخه په خپل زړه کښی غوره کړی دی.

وَأَمَّا مَنْ جَآءَكَ يَسْعَىٰ ﴿٨﴾ وَهُوَ يَخْشَىٰ ﴿٩﴾

او هر هغه څوک چه راشی تاته په تلوار سره (لپاره د طلب د خیر) حال دا چه دی ویریږی (له الله نه)

**تفسیر :** یعنی دغه د خیر طالب عبد الله بن ام مکتوم رضی الله تعالیٰ عنه له الله جل جلاله څخه ویریږی یا له دی څخه ویریږی چه ستاسی ملاقات به ورته نه میسر کیږی یا دا چه دی ړوند دی له دی نه ویریږی چه څوک به ئی لاس ونه نیسی چه چیری ونه لویږی یا له کوم شی سره ونه لګیږی یا داسی خیال وکړی چه زه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم زیارت ته ځم کیږی چه غلیمان (دښمنانان) په لاره کښی ماته څه ضرر راورسوی.

فَأَنتَ عَنْهُ تَلَهَّىٰ ﴿١٠﴾

پس ته (ای محمده) له هغه (ړوند طالب‌الخیر څخه) مخ ګرځوی (مشغولیږی تغافل کوی له کفارو سره خبری کوی).

**تفسیر :** حال دا دی چه له هم داسی سړی څخه ګټه (فائده) واخلی او د اسلام دپاره کار وکړی. وائی چه هم دی ړانده ابن ام مکتوم ځغره واغوسته او د اسلام بیرغ ئی په اوږه کیښوده. او د قادسیی په جهاد کښی شریک شو تر دی چه په جهاد کښی ئی شهادت وموند رضی الله تعالیٰ عنه و ارضاه! روایت دی چه حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د دی آیت له نزوله وروسته هیڅکله مخ نه و تریو کړی په مخ د فقراؤ کښی.

كَلَّآ إِنَّهَا تَذْكِرَةٌ ﴿١١﴾ فَمَن شَآءَ ذَكَرَهُۥ ﴿١٢﴾

مه کوه بیا داسی (ځکه چه) بیشکه دا (سورت) یوه تذکره پند دی (له جانبه د الله تولو ته) نو هغه څوک چه غواړی ودی منی دغه (پند د قرآن)

**تفسیر** : یعنی که متکبر اغنیاء قرآن کریم ونه لولی او د هغه پند ته غوږ کښینږدی نو ځان ته ضرر رسوی ځکه چه قرآن مجید د هغو څه پروا نه لری نه تاسی ته ښائی چه دومره زیات د هغوی فکر وکړئ. پر تاسی باندی دومره دی چه خپل عمومی تبلیغ او پند ووایئ که څوک خپله گته (فائده) غواړی نو ځان دی پری پوه کړی او ودی لولی او عمل دی پری وکړی.

فِى صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ ﴿١٣﴾ مَّرْفُوعَةٍ مُّطَهَّرَةٍۭ ﴿١٤﴾

(دغه قرآنی آیات لیکلی شوی دی) په پانو عزتناکو (عند الله په لوح محفوظ کښی) چه پورته دی په قدر او عظمت کښی پاک کړی شوی دی (له رسیدو د شیاطینو او له نورو تولو عیبونو نه).

**تفسیر** : یعنی آیا د دی مغرور او لوئی خوښوونکی له منلو څخه د قرآن عزت او وقعت زیاتیږی؟ قرآن مجید خو هغه پاک کتاب دی چه آیتونه ئی په آسمان کښی نهایت معزز او لویه مرتبه لری او په پاکو پانو کښی لیکلی شوی دی او په ځمکه کښی هم اخلاصمن مسلمانان د هغه خورا (دیر) زیات عزت او احترام ساتی او په دیر تقدیس او تطهیر ئی په لوړو (اوچتو) ښو ځایونو کښی ږدی.

بِأَيْدِى سَفَرَةٍ ﴿١٥﴾ كِرَامٍۭ بَرَرَةٍ ﴿١٦﴾

په لاسونو د (ملائکو) لیکونکیو عزتمنو نیکو.

**تفسیر** : یعنی هلته ئی پرښتی لیکی او سم له هغه سره وحی راځی او دلته ئی هم په پانو باندی لیکونکی او تولوونکی د دنیا د خورا (دیر) لویو سریو او ښو خلقو څخه پرښته خوی د پاک الله بندگان دی چه هغوی د قرآن کریم د هر راز (قسم) تزئید، نقص او تحریف، تبدیل څخه ځانونه ژغوری (ساتی) او هغه تل همغسی پاک ساتی.

قُتِلَ الْإِنسَانُ مَآ أَكْفَرَهُۥ ﴿١٧﴾

لعنت (هلاک) کړی شوی دی په (کافر) انسان چه څه شی کافر کړی ئی دی (باعث کړی ئی دی په کفر).

**تفسیر :** یعنی د قرآن کریم غوندی د لوی نعمت هیڅ قدر او عزت ئی ونه پیژنده او د الله تعالیٰ حق ئی پر ځای نه کړ. او له دی نه ئی هیڅ اندیښنه ونه کړه چه.

مِنْ أَيِّ شَيْءٍ خَلَقَهُۥ ﴿١٨﴾ مِن نُّطْفَةٍ

له څه شی څخه پیدا کړی دی (الله) هغه (انسان فرمائی الله) له نطفی (قطری د منی) څخه.

**تفسیر :** یعنی که لږ څه دغه انسان خپل اصل ته فکر وکړی چه دی له څه شی څخه پیدا شوی دی؟ د یوه ناخیز او بی قدر څاڅکی له اوبو څخه پیدا شوی دی چه هیڅ حس، شعور، حسن، جمال، عقل، کمال، ادراک، واک (اختیار) او نور په کښی نه و. او دا ګرد (تول) شیان الله تعالیٰ له خپلی مهربانی څخه وربښلی دی چه اوس ئی عمومی حقیقت داسی ښکاری آیا ده ته دا لوئی، غرور څه مناسبت لری؟ او ښه نه وربښکاری او نه ښائی چه خپل اصلی حقیقت او د الله دا ګرد (تول) انعام او اکرام هیر کړی؟ او د الله تعالیٰ د داسی پند ورکولو او وینا مورد وګرځی؟ څوک چه خپل ځان او حقیقت نه پیژنی او د الله تعالیٰ د دی ګردو (تولو) احساناتو او نعمتونو قدر نه کوی نو داسی احسان هیروونکی ته شرم په کار دی.

خَلَقَهُۥ فَقَدَّرَهُۥ ﴿١٩﴾ ثُمَّ السَّبِيلَ يَسَّرَهُۥ ﴿٢٠﴾

پیدا کړی دی (الله) دغه (انسان) پس په اندازه ئی کړ ده لره (هیئت او صورت اندامونه د مور په نس کښی) بیا ئی لاره ورآسانه کړی ده ده ته (لاره د وتو د ده له ګیډی د موره).

**تفسیر :** یعنی لاسونه، پښی او نور ګرد (تول) اعضاء او قواوی ئی له هم هغه یوه څاڅکی اوبو څخه د مور په نس کښی د احسن الخالقین توب په اقتضاء په یوه ځان ته شکل او خاص اسلوب او اندازه ورجوړ کړی او هیڅ یو شی ئی نامناسب او خراب او خلاف له حکمت نه دی وروړغ کړی. بیا ئی لاره ورآسانه کړی ده ده ته یعنی د ایمان او د کفر د ښو او د بدو یوه ئی

ورکره. یا دا چه د مور له نس څخه ئی په آسانی سره راوویست.

ثُمَّ أَمَاتَهُۥ فَأَقْبَرَهُۥ ﴿٢١﴾

بیا (الله) مړ کړ هغه (انسان لره) نو په قبر کښی ئی کیښود ده لره.

**تفسیر :** یعنی وروسته له مرینی څخه د هغه مړی د ښښولو هدایت ئی ورکړ تر څو چه د ژوندیو په نزد بی حرمته نه شي.

ثُمَّ إِذَا شَآءَ أَنشَرَهُۥ ﴿٢٢﴾

بیا هر کله چه اراده وفرمائی (الله د انسان د بیا ژوندیتوب نو ئی) ژوندی کوی ده لره (لپاره د جزاء).

**تفسیر :** یعنی هغه الله تعالیٰ چه یو مخلی انسان ته حیات او بیا ممات ورکوی او ښښوی ئی اختیار لری چه هر وخت ئی وغواړی بیا ئی ژوندی کړی او له قبره ئی وباسی ځکه چه اوس هم هیچا د هغه قدرت نه دی سلب کړی. په هر حال هغه څوک چه خلق پیدا کوی او دنیا ته ئی راولی بیا ئی وژنی او برزخ ته ئی بیائی او بیا ئی ژوندی کوی او د حشر په میدان کښی ئی ودروی. نو د داسی قادر او مقتدر ذات پند آیا د اعراض او انکار وړ (لایق) دی؟ چه ګرد (تول) امور ئی په واک او اختیار کښی دی آیا د هغو نعمتونو سپکتیا کوم سری لره ښائی؟ بلکه هر انسان ته لازم دی چه د رب المنان د احسان قدر وکړی.

كَلَّا لَمَّا يَقْضِ مَآ أَمَرَهُۥ ﴿٢٣﴾

بیخی نه دی کړی (کافر) هغه شي چه امر حکم کړی دی ده ته (دغه الله د هغه).

**تفسیر :** یعنی سری هیڅ کله د خپل خالق حق نه دی پیژندلی او هر څه حکم ئی چه ورکړی وی تر اوسه پوری ئی په ځای نه دی راوړی.
**تنبیه :** ابن کثیر رحمة الله علیه «کلا لما یقض ما امره» له «ثم اذا شاء انشره» سره لګولی دی یعنی کله چه غواړی هغه ژوندی کوی او پورته کوی ئی. اوس داسی نه کوی ځکه چه د دنیا د ودانی په نسبت د ده حکم (کونی) او (قدری) دی او دا ئی تر اوسه پوری پای (آخر) ته نه

دی رسولی. نو هیڅوک داسی نشی ویلی چه ولی اوس قیامت نه قائمیږی؟

فَلْيَنظُرِ الْإِنسَانُ إِلَىٰ طَعَامِهِ ﴿٢٤﴾

نو ودی ګوری انسان طرف د طعام خپل ته.

**تفسیر :** رومبی د انسانانو د پیدا کیدلو او مر کیدلو ذکر اوس د هغه د ژوندون او د بقاء د سامان داسی یادونه کوی چه.

أَنَّا صَبَبْنَا الْمَاءَ صَبًّا ﴿٢٥﴾ ثُمَّ شَقَقْنَا الْأَرْضَ شَقًّا ﴿٢٦﴾

بیشکه مونږ توئی کړی دی اوبه (له وریځو ځخه) تویول بیا څیری کړی ده مونږ ځمکه څیرول.

**تفسیر :** یعنی د یوه تنکی وابنه څه طاقت دی چه ځمکه څیری کوی او زرغونیږی دا د قدرت لاس دی چه ځمکه څیروی او هغه او نوری راز راز (قسم قسم) غلی، دانی، میوی او نور ترکودی (ترکارئی) او نباتات ځنی راوباسی.

فَأَنبَتْنَا فِيهَا حَبًّا ﴿٢٧﴾ وَعِنَبًا وَقَضْبًا ﴿٢٨﴾ وَزَيْتُونًا وَنَخْلًا ﴿٢٩﴾
وَحَدَائِقَ غُلْبًا ﴿٣٠﴾ وَفَاكِهَةً وَأَبًّا ﴿٣١﴾ مَّتَاعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعَامِكُمْ ﴿٣٢﴾

بیا مو زرغونی کړی دی په هغی (ځمکی) کښی دانی او انګور او منه، ترکاری. او زیتون خوونه او خرما او باغونه ګڼ (له جهته د دیروالی د ونو نه). او (تازه) میوی او (وچی میوی یا) وابنه (ومو کړل دغه تول څیزونه) دپاره د نفع د تاسی او د حیواناتو د تاسی.

**تفسیر :** یعنی ځینی شیان ستاسی په کار درځی او ځینی ستاسی د حیواناتو په کاریږی.

فَإِذَا جَاءَتِ الصَّاخَّةُ ﴿٣٣﴾

نو كله چه راشي سخت آواز غوړونه كنوونكى (د دوهمى نفخى).

تفسير : يعني داسې سخت غږ چه په هغه غوړونه كڼيږي له دې څخه مراد د نفخ الصور غږ دى.

يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ ﴿٣٤﴾ وَأُمِّهِ وَأَبِيهِ ﴿٣٥﴾ وَصَاحِبَتِهِ وَبَنِيهِ ﴿٣٦﴾ لِكُلِّ امْرِئٍ مِنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ ﴿٣٧﴾

هغه ورځ چه تښتي به سړى له خپله وروره او له خپلې مور او له پلاره او له خپلې ملګرى (ښځى) او له خپلو ځامنو. هر سړى لره له هغو څخه په دغې ورځى كښې به يو حال وى چه بې پروا كوى ئى (له نورو له احوالو نه).

تفسير : يعني په هغې ورځى كښې به هر څوک د خپل ځان په فكر كښې وى هيڅ يو له احبابو او خپلوانو څخه به د بل په فكر كښې نه وى بلكه له دې ويرى چه بل څوک ځما نيكى وانخلي يا د خپل حق غوښتنه ونه كړى يو له بله تښتي.

وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ مُسْفِرَةٌ ﴿٣٨﴾ ضَاحِكَةٌ مُسْتَبْشِرَةٌ ﴿٣٩﴾

ځينې مخونه به په دغې ورځى كښې روښانه (وى د ايمان له رڼا) خنديدونكى خوشاله به وى (په موندلو د كرامت چه مؤمنان دى)

تفسير : يعني د مؤمنانو له خيرى څخه به خندا او خوشالي ښكارى چه شكر له عذابه خلاص او د الله تعالىٰ په كرامت سره مو اختصاص وموند او د ايمان له نوره به ئې مخونه روښانه وى او له ديره مسرته به خاندى او خوشاله به اوسى.

وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ ﴿٤٠﴾ تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ ﴿٤١﴾

او ځينې مخونه په دغې ورځى كښې په دوى باندى به ګرد وى پټ كړى به وى هغه مخونه (ګرد) ظلمت او توروالي.

تفسير : يعني د كافرانو په خيرو باندى به د غم او كدورت او خپګان دوړى بريښى او د فسق

او فجور ظلمت او تیاره به ئی ښی توری کړی.

أُولَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَفَرَةُ ٱلۡفَجَرَةُ ﴿٤٢﴾

دغه تول (تورمخی) هم دوی دی (بی شرم) کافران فاجران.

**تفسیر :** یعنی بی حیا کافرو ته هومره چه وویل شی دوی له خپلی خبری څخه نه اوړی، نه له الله جل جلاله شرمیږی او نه له خلقو او نه له لوئی ورځی څخه ویریږی او په حقوق الله او حقوق العباد کښی خیانت او تری انکار کوی څرنګه چه دوی جمع کړی دی کفر سره له فجوره نو جمع به کړی الله تعالیٰ توروالی د مخونو سره ئی ګرد.

**تمت سورة عبس بفضل الله تعالیٰ ومنه وکرمه**

سورة التکویر مکیة وهی تسع و عشرون آیة و فیها رکوع واحد رقمها (۸۱) تسلسلها حسب النزول(۷) نزلت بعد سورة تبّت

د «التکویر» سورت مکی دی (۲۹) آیة یوه رکوع لری په تلاوت کښی (۸۱) په نزول کښی (۷) سورت دی وروسته د «تبّت» د سورت څخه نازل شوی دی.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

إِذَا ٱلشَّمۡسُ كُوِّرَتۡ ﴿١﴾

کله چه (د) لمر (رڼا) ونغښتله شی (نور ئی لاړ شی).

**تفسیر :** ګواکی د لمر هغه اوږدی شغلی به چه تودوخی رڼا ورڅخه وځی ونغښتلی شی او لمر به بی نوره شی او د خیدک (پنیر) چکی ته به ورته وی یا به هیڅ نه ښکاری.

وَإِذَا ٱلنُّجُومُ ٱنكَدَرَتۡ ﴿٢﴾

او کله چه ستوری خړ شی (یا راولویږی په ځمکه).

تفسیر : یعنی ستوری به راولویږی او رڼا به نه لری.

وَإِذَا ٱلْجِبَالُ سُيِّرَتْ ۝٣

او کله چه غرونه روان کړل شی.

تفسیر : یعنی غرونه به له خپلو ځایونو څخه روانیږی او په هوا کښی به الوځی او ګرځی به.

وَإِذَا ٱلْعِشَارُ عُطِّلَتْ ۝٤

او کله چه د لسو میاشتو بلاربی اوښی خوشی کړی شی (اوښیانه به ورسره نه وی).

تفسیر : اوښ د عربو له ښو بودهؤ (ځاروو) څخه دی او هغه اوښه چه د لسو میاشتو بلاربه وی او له هغی د شودو او جونګی (بچی) ځیګیدلو هیله (امید) نژدی وی پر دوی ډیر ګرانه وی خو د قیامت د ویروونکی زلزلی په وخت کښی به د هغه نفیس او عزیز او ګران مال پوښتنه به هم ونه کړه شی یا د هغه خاوند به دغومره خپه او پریشانه وی چه د داسی عزیز او ګران مال له احواله به غافل وی یا دا چه وریځ به معطله کړه شی له بارانه. یا ځمکه پاتی کیږی له فصله دا خبر چه «د ریلونو او موټرو او د طیارو او د نورو عصری نواقلو له تګ او راتګ څخه به اوښان نشی تللی» محض یو ظرافت دی.

وَإِذَا ٱلْوُحُوشُ حُشِرَتْ ۝٥

او کله چه وحشی ځناوران راټول کړل شی (لپاره د قصاص اخیستو یو له بله).

تفسیر : یعنی هغه ځنګلی ځناوران به چه تل د سړیو له ویری لری تښتی له ډیری ویری ښارونو ته راځی او له کورنیو بودهؤ (ځاروو) سره به ملګرتوب خوښوی لکه چه اوس هم ډیر ځلی د خوف او ویری په وقت کښی هم داسی لیدل کیږی خو کاله پخوا له دی نه د (هند) ګنګا او جمنا په سیند کښی سخت سیلاب راغی خلقو وکتل چه یو لوی تل اوبه وری او په هغه باندی سړیو بودهؤ (ځاروو) مارانو او نورو ژوندیو ځانونه ټینګ نیولی دی او یو په بل باندی څه تعرض نه کوی هر یو د خپل ځان په فکر کښی دی پرته (علاوه) له دی د یخنۍ په وخت کښی کله

کله لیدلی شوی دی چه ځینی ځیروونکی ځناوران کلیو او ښارونو ته ننوځی.
**تنبیه :** ځینو مفسرینو د «حشر» معنی مره کول او ځینو مره کول بیا ژوندی کول لیکلی دی والله اعلم.

وَإِذَا الْبِحَارُ سُجِّرَتْ ﴿٦﴾

او کله چه بحرونه سیندونه سره ګډ کړل شی (تریخ له خواږه سره یا ډیر سخت ګرم شی یا وچ کړی شی نو پکښی به پاتی نشی یو ځاځکی د اوبو).

**تفسیر :** یعنی د لویو لویو سیندونو اوبه به له ډیرو خوټیدلو څخه د بخار او براس په ډول (طریقه) کیږی چه د هغو له تودوخی څخه به په محشر کښی کفارو ته سخت ربړ (تکلیف) پیښیږی او د تناره په شان به د سیندونو له منځه سخت سوځوونکی اور او د بخار او براسونو غروسکی پورته کیږی یا کله چه دریابونه بل کړ شی نو وکرځی اور.

وَإِذَا النُّفُوسُ زُوِّجَتْ ﴿٧﴾

او کله چه نفسونه جوړه کړل شی (پیوست کړل شی ارواح له جثو سره یا یو ځای کړل شی هر څوک له مثل خپل سره نیکان له نیکانو بدان له بدانو سره)

**تفسیر :** یعنی مسلمان له مسلمان سره او کافر له کافر سره بیا هر راز (قسم) عمل کوونکی که ښه وی که بد لکه له خپل همجنس عمل کوونکی به سره مله شی د عقائدو، اعمالو، اخلاقو او نورو په اعتبار به له هر یوه څخه بیل بیل تولګی جوړیږی یا دا چه ارواح به له خپلو اجسامو سره جوړه کړل شی.

وَإِذَا الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ ﴿٨﴾ بِأَيِّ ذَنْبٍ قُتِلَتْ ﴿٩﴾

او کله چه له جینئ ژوندی خښه کړی شوی څخه وپوښتیدله شی (داسی) چه په کومی ګناه وژلی شوی ده (دا جینئ).

**تفسیر :** د جاهلیت په عربو کښی قاعده وه چه پلار به خپله جینئ په ډیره بیرحمی سره ژوندی په ځمکه کښی خښوله. ځینو به د نیستی او غریبی، یا د هغی د واده د اخراجاتو له ویری داسی کول. او ځینی به له دی شرمیدل چه څنګه به خپله جینئ بل چاته ورکړم چه هغه می ځوم

وباله شي قرآن کریم خبر ورکړ چه د دی مظلومانو په نسبت به هم په قیامت کښې پوښتنې وشي چه په کومه گناه ژوندی خښې شوی دی؟ داسي ئې مه گڼئ چه دا مو اولاد دی په دوی باندی مو هر څه چه زړه غواړی هغه کولی شي بلکه د اولادتوب له پلوه ستاسو دا جرم لا درنیږی.

وَإِذَا الصُّحُفُ نُشِرَتْ ﴿١٠﴾ وَإِذَا السَّمَاءُ كُشِطَتْ ﴿١١﴾

او کله چه اعمال نامی وغوړولی خواره کړی شي او کله چه آسمان د پوستکی په شان وویستلی شي (له خپله ځایه).

**تفسیر :** لکه چه د حیواناتو له حلالولو او پوستکی وښکلو څخه وروسته د هغه گرد (تول) اعضاء او رگونه او پلی او نور ښکاری هم داسی د آسمان له پرانیستلو څخه وروسته گرد (تول) پاس شیان لیدل کیږی او د غمام نزول به وشي چه د هغه ذکر به نولسمه پاره کښې په « ویوم تشقق السمآء بالغمام» سره شوی دی.

وَإِذَا الْجَحِيمُ سُعِّرَتْ ﴿١٢﴾ وَإِذَا الْجَنَّةُ أُزْلِفَتْ ﴿١٣﴾

او کله چه دوزخ بلی لمبی کړ شي (کافرانو ته) او کله چه جنت نژدی کړ شي (مؤمنانو ته).

**تفسیر :** یعنی کفارو ته دوزخ په ډیر زور او شور او بلو لمبو سره وربښکاره کاوه شي او جنت متقیانو ته ورنژدی کیږی چه د هغه دول او سینگار به جنتیانو ته خورا (ډیر) ښه خوښوونکی او مسرت بښوونکی وی نو په دغه وقت کښې.

عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا أَحْضَرَتْ ﴿١٤﴾

پوه به شي هر نفس په هغه شي چه حاضر کړی ئې وی (له خیر او له شره).

**تفسیر :** یعنی هر یوه ته به دا پته ولگیږی او ورمعلومه به شي چه له ده سره د نیکی یا د بدی څومره پنگه (ذخیره) او سرمایه شته چه له ځان سره ئې راوړی وی.

فَلَا أُقْسِمُ بِالْخُنَّسِ ﴿١٥﴾ الْجَوَارِ الْكُنَّسِ ﴿١٦﴾

نو قسم خورم زه په (ستوریو) بیرته گرځیدونکیو سمو تلونکیو پټیدونکیو باندې.

**تفسیر :** دیر ستورې لکه زحل مشترې مریخ زهره او عطارد کله له مشرق څخه د مغرب په لوري کله سم کله کاږه ځي کله گرندې او کله ورو خوځیږي کله د لمر کله د سپوږمۍ څنګ ته نږدې کیږي بیا څو ورځې پټیږي.

وَالَّيْلِ إِذَا عَسْعَسَ ﴿١٧﴾ وَالصُّبْحِ إِذَا تَنَفَّسَ ﴿١٨﴾

او (قسم خورم زه) په شپې کله چه راوخیژي مخ راوگرځوي (په تیارو خپلو سره) او (قسم خورم زه) په صبا کله چه سا ووهي راوخیژي (روښانه شي).

**تفسیر :** یا کله چه شپه راشي یا لاړه شي. د «عسعس» لفظ دوه معنی لري.
حضرت شاه عبد العزیز رحمة الله علیه لیکي گواکي لمر ته ئې په لامبو وهونکي کب او مهې سره تشبیه ورکړې او د لمر هغه وړانګې ئې چه له لمر څخه پخوا خیژي او خوریږي د مهې لکې ته مشابه او ورته کړې دي هغسې چه مهې په سیند کښې پټ تیریږي او د هغه له سا وهلو څخه اوبه تیندکي وهي او سره خوریږي هم دا راز (قسم) لمر هم پخوا تر سپیده داغ او لمر بریښي، ځیني وائي نه سهار له سا څخه مراد د سهار هغه نسیم او وږمه ده چه د پسرلي په موسم کښې له سپیده داغه راهیسې چلیږي.
**تنبیه :** د دې قسمونو مناسبت له راتلونکي مضمون او خبرې سره دا دې چه د دې ستوریو تلل، ودریدل بیرته گرځیدل پټیدل او د پخوانیو پیغمبرانو د پرله پسې وحې د راتللو یوه نمونه ده چه تر یو مدت پورې د هغې له نښې پاتې کیدلو څخه وروسته د هغو پاتې کیدل او پټیدل شپې ته ورته دې په رښتیا سره چه هغه توره تیاره پیرې چه د حضرت خاتم المرسلین د ولادت باسعادت څخه پخوا پر دنیا تیره شوې ده چه د حق او باطل فرق او توپیر (تفاوت) پکښې نه کیده او د وحې علائم او نښې پکښې نه ښکاریدلې د یوې تورې شپې نمونه وه وروسته په نور سره لکه رڼا ورځ روښانه کړې ده گواکي د پخوانیو پیغمبرانو رڼا لکه د ستوریو رڼا وه او دا نور الاعظم او لویه رڼا لکه لویې پلوشې لرونکي لمر دې. څنگه ښه ویلې شوې دې.

فانه شمس فضل هم کواکبها   یظهرن انوارها للناس فی الظلم
حتیٰ اذا طلعت فی الکون عم هدا   ها العالمین و احیت سائر الامم

انبیا دې لکه ستورې، د فضل لمر دې محمد
په رڼا د دوی تل درومي، خلق په لوري د احد
په بعثت د محمد شوه، دنیا توله منوره

سپین تور زیر او سور تول منتفع شول له احمد

ځینی علماء وائی چه د ستوریو دا سم او کوږ تګ او پټیدل بیرته ګرځیدل په علم ملکوت کښی د پرښتو تګ او راتګ او پټیدلو ته ورته دی. د شپی تیریدل او د سهار راتلل د قرآن کریم په سبب د کفر او ظلمت لری کیدل او د هدایت د نور له ښو ښکاره کیدلو سره مشابه دی. سم له دی وینا سره د مقسم به مناسبت له مقسم علیه سره له لری ښکاری والله اعلم

او د پاس قسمونو جواب دا دی چه الله اکرم شانه و اعظم برهانه داسی فرمائی:

---

إِنَّهُۥ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ ﴿١٩﴾ ذِى قُوَّةٍ عِندَ ذِى ٱلْعَرْشِ مَكِينٍ ﴿٢٠﴾ مُّطَاعٍ ثَمَّ أَمِينٍ ﴿٢١﴾

---

بیشکه دا قرآن خامخا قول وینا د رسول عزتمن (جبریل) ده چه خاوند د قوت زور په نزد د څیښتن (خاوند) د عرش مرتبه والا دی منلی شوی دی هلته امین دی.

---

**تفسیر** : دا د حضرت جبرئیل علیه السلام صفتونه دی یعنی قرآن کریم چه د الله جل جلاله له لوری مونږ ته رارسیدلی دی د وصول دوه وسیلی لری یوه وحی راوړونکی پرښته جبریل علیه السلام دوهم څمونږ پیغمبر عربی حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د دوی دواړو صفتونه داسی دی چه د هغو له ښکاره کیدلو څخه بیا هیچاته د قرآن مجید په منزل من الله او صداقت کښی هیڅ شک او شبهه نه پاتی کیږی. د یوی خبری په رښتیا منلو کښی لوی دلیل دا دی چه راوی ئی په اعلیٰ درجه سره ثقه، عادل ، ضابط، حافظ او امین وی او له هغه چا څخه چه روایت کوی د ده په مخ کښی عزت او حرمت لرونکی وی او خورا (ډیر) معتبر ثقات د هغه په امانت باندی داده وی. کلی اعتماد ولری او د هغه خبری بی له وړاندی وروسته کولو څخه د زړه له کومی ومنی. دا ګرد (تول) صفتونه په حضرت جبریل علیه السلام کښی شته عزتمن او کریم هغه څوک دی چه متقی او ډیره پاکی ولری او له الله تعالیٰ څخه خورا (ډیر) ویریدونکی وی «ان اکرمکم عندالله اتقئکم» په حدیث کښی دی (الکرم التقوی) ذی قوة اشاره ده کامل حفظ، ضبط او د بیان کامل قوت ته او د الله تعالیٰ په مخ کښی هغه د لوئی درجی خاوندی دی یعنی د ګردو (تولو) پرښتو څخه د الله تعالیٰ په دربار کښی نژدی ځای لری د آسمان پرښتی د هغه حکم منی ځکه چه هغوی ګردی (تولی) د هغه په امانت اعتبار او عزت باندی خبری دی. دا خو د ملکی رسول خبره ده اوس د بشری رسول خبری هم واوری.

---

وَمَا صَاحِبُكُم بِمَجْنُونٍ ﴿٢٢﴾

او نه دی دا صاحب ملګری ستاسی (محمد) لیونی (لکه چه پری ګمان کوئ تاسو بلکه ښه پوه او هښیار دی).

**تفسیر :** یعنی له بعث پخوا تر څلویښتو کلونو پوری تاسی له (محمد) سره لیدلی دی او په دی اوږده موده کښی مو د هغه د پتو او ښکاره ؤ خبرو تجربه کړی ده خو هیڅکله مو د هغه فریب دروغ او لیونتوب نه دی لیدلی او تل مو د هغه د رښتیا، امانت، عقل او پوه اعتراف او ستاینه (صفت) کوله اوس نو ولی بی سببه هغه ته لیونی او دروغجن ویل کیږی؟ لکه چه دا ستاسی هغه رفیق او ملګری نه دی؟ چه د هغه ګرد (ټول) احوال تاسی ته ښکاره دی نو اوس داسی سړی ته لیونی ویل آیا لیونتوب نه دی؟ بلکه لیونتوب دی!.

وَلَقَدْ رَاٰهُ بِالْاُفُقِ الْمُبِیْنِ ﴿٢٣﴾

او خامخا په تحقیق لیدلی و (محمد) هغه (جبریل د آسمان) په څنډه (غاړه) روښانه کښی.

**تفسیر :** یعنی په مشرقی څنډه (غاړه) کښی د هغی پرښتی یعنی جبریل علیه السلام بنه ئی په اصلی صورت او ښه شان سره ولیده نو ځکه نشی ویلی چه د هغه په لیدلو کښی به څه تیروته او مغالطه پیښه شوی وی. او هغه څوک ئی چه لیدلی په رښتیا سره پرښته وه پخوا له دی نه د «النجم» په سورت کښی راغلی دی «فاستویٰ وهو بالافق الاعلیٰ».

وَمَا هُوَ عَلَى الْغَیْبِ بِضَنِیْنٍ ﴿٢٤﴾

او نه دی دغه (محمد د وحی) پر پتو خبرو باندی بخیل (چه پتوی ئی او تعلیم د هغی تاسی ته نه کوی).

**تفسیر :** یعنی دا پیغمبر تاسی ته د هر راز (قسم) پټی خبری که په تیره که په راتلونکی پوری اړه (تعلق) لری خبر درکوی یا د الله تعالیٰ د اسماؤ او صفاتو یا د شرعیه ؤ احکامو یا د مذاهبو د حقیقت او بطلان یا د جنت او دوزخ د خبرو یا له مړینی څخه وروسته د پیښو او په هغو پوری تړلی خبرو په درښوولو کښی لږ بخل هم نه کوی او څه اجرت او باړه نه غواړی نذرانی، بخشش او تعارف ته ئی سترګی نه دی نیولی نو بیا د کاهن لقب ولی ورته ورکاوه کیږی؟ کاهن د پټو خبرو د یوی وړوکی او جزوی خبری سره ډیر دروغ ګډوی او د هغه په درښوولو کښی دومره بخل کوی تر څو چه زیاته نذرانه او بخشش وانه خلی هغه نه وائی او یو

توری ئی له خولی څخه نه وځی د پیغمبرانو لوړ (اوچت) سیرت د کاهنانو له رټلیو اخلاقو سره څه نسبت نه لری.

وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَيْطَٰنٍ رَّجِيمٍ ﴿٢٥﴾

او نه ده دا (قرآن) خبره د شیطان رټلی ویشتلی شوی (په شغلو سره).

**تفسیر :** هیڅ کله شیطان د هغو ښو چارو ښوونه نه کوی چه په هغو کښی د بنیادمانو ګټه (فائده) او د هغه ملعون تقبیح او مذمت وی بلکه دغه (قرآن مجید) د الله اکرم شانه واعظم برهانه حق کلام دی.

فَأَيْنَ تَذْهَبُونَ ﴿٢٦﴾

نو چرته ځئ تاسو (ای منکرانو کافرانو په دی انکار او په څنګ کولو کښی له قرآنه).

**تفسیر :** یعنی کله چه دروغ او لیونتوب تخیل، توهم، کهانت او نور ګرد (ټول) احتمالات لری شول نو پرته (علاوه) له حق او رښتیا څخه نور څه پاتی شول بیا نو ای منکرانو دا سمه صافه لاره ولی پریږدی؟ او بی لاری ولی ځئ؟.

إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٧﴾

نه دی دا (قرآن) مګر ذکر پند دی (له جانبه د الله) دپاره د خلقو (انس وی که جن).

**تفسیر :** هغه ګرد (ټول) احتمالات چه د قرآن کریم په نسبت ئی پیدا کری، هغه ګرد (ټول) سره غلط دی که تاسی د دی قرآن په خبرو او ښوونو کښی ښه فکر او جاج ووهئ. نو دا به درښکاره شی چه دغه قرآن ټول جهان ته ډیر ښه لار ښوونکی او مکمل دستور العمل دی چه په عمل کولو ئی د دواړو دارینو فلاح او ګټی په لاس راځی. نه دی دا قرآن مګر ذکر پند دی له جانبه د الله اکرم شانه واعظم برهانه دپاره د خلقو مخصوصاً.

لِمَنْ شَآءَ مِنْكُمْ اَنْ يَّسْتَقِيْمَ ﴿۲۸﴾

هغه چاته چه غواړی قصد کوی له تاسی د سمیدلو خپلو (داسی چه سم برابر لاړ شی پر لاره د الله تعالیٰ باندی).

**تفسیر :** یعنی دغه قرآن مجید په تیره بیا هغو لره پند دی چه په سمه لاره تلل غواړی، کوږ تګ او عناد ئی نه وی خوښ ځکه چه داسی سری له داسی پند څخه ډیره ګټه (فائده) اخلی.

وَمَا تَشَآءُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۹﴾ ع

او نه شئ قصد کولی تاسی (د سمی لاری) مګر هغه چه اراده وفرمائی الله (د قصد د تاسی د سمی لاری) چه رب پالونکی د (تولو) عالمیانو دی.

**تفسیر :** یعنی پخپله قرآن کریم پند دی ولی تاثیر ئی د الله تعالیٰ په مشیت پوری اړه (تعلق) لری چه ځینو باندی اثر کوی او په ځینو نورو باندی د ځینو نورو حکمتونو په سبب څه اثر نه کوی او نور استعدادات هغوی ته ورکوی.

**تمت سورة التکویر بفضل الله القدیر فلله الحمد والمنة**

سورة الانفطار مکیة وهی تسع عشرة آیة وفیها رکوع واحد رقم تلاوتها (۸۲) تسلسلها حسب النزول (۸۲)

نزلت بعد سورة «النازعات»

د «الانفطار» سورت مکی دی (۱۹) آیته یوه رکوع لری په نزول او په تلاوت په دواړو کښی (۸۲) سورت دی

وروسته د «النازعات» له سورته نازل شوی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

اِذَا السَّمَآءُ انْفَطَرَتْ ﴿۱﴾ وَاِذَا الْكَوَاكِبُ انْتَثَرَتْ ﴿۲﴾ وَاِذَا الْبِحَارُ فُجِّرَتْ ﴿۳﴾

او کله چه آسمان وچوی خیری شی او کله چه ستوری راولویږی تیت په تیت

(ګډوډ) شي او په هغه وقت کښې چه دریابونه ګډ شي (یو له بله سره او تول یو دریاب شي).

**تفسیر :** یعنې د ترخو اوبو سیندونه به سره وخوټیږي او د دې تندوبې له سببه به ترخې او خوږې اوبه سره ګډې ودې شي.

وَإِذَا الْقُبُورُ بُعْثِرَتْ ﴿٤﴾

او کله چه قبرونه سره خیرې لاندې باندې کړل شي (او مړي ژوندي ترې راپورته کړل شي).

**تفسیر :** یعنې هغه شیان چه د ځمکې په منځ کښې وي د باندې به راغورځي او مړي به له خپلو قبرونو څخه (ژوندي) راوځي. هر کله چه وشي دا کارونه قیامت قائمیږي نو

عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ وَأَخَّرَتْ ﴿٥﴾

پوه به شي هر نفس (په دغه وقت کښې) په هغه خیر او شر خپل باندې چه وړاندې ئې لیږلي وي او چه وروسته ئې پرې ایښې وي.

**تفسیر :** یعنې هغه ښې او بدې چارې چه کړې ئې وي یا ئې نه وي کړې د خپل عمر او منګ په اول کښې ئې کړې وي یا په آخر کښې د هغې نښې بیرته ورڅخه پاتې وي او که نه وي پاتې هغه ګرد (تول) هلته د ده په مخ کښې راځي.

يَا أَيُّهَا الْإِنسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ ﴿٦﴾

ای انسانه (کافره!) څه شي مغروره کړی ئې ته پخپل رب کریم باندې (چه کافر شوی ئې پرې).

**تفسیر :** یعنې هغه کریم رب آیا د دې خبرې وړ(لائق) و چه ته د خپل جهل او حماقته د هغه په حلم او کرم باندې داده شوی سر به دې ورځنې غړاوه؟ تاته خو دا ښه وه چه د هغه له دې کرم څخه به شرمیدې او د حلیم له قهر څخه به ډیر ویریدې ولې چه الله تعالیٰ ډیر کریم دی خو ورسره منتقم او حکیم هم دی نو که دا تیرواته او غرور نه دی نو څه دی چه ته ئې په یوه صفت

پیژنی او له بل صفت نی سترګی پټوی؟.

ٱلَّذِى خَلَقَكَ فَسَوَّىٰكَ فَعَدَلَكَ ﴿٧﴾

هغه (رب الکریم) چه پیدا کړی ئی یی ته نو برابر کړی ئی ته (یعنی اندامونه ئی پوره درکړی دی) پس برابر معتدل کړی ئی ته (په خلقت کښی).

تفسیر : یعنی پیدا ئی کړ یو لاس په اندازه د بل سره او یوه سترګه په مقدار د بلی سره. په دی کښی اشارت دی دی ته چه هر کله دغه رب قدیر په دغه شان سره قدرت لری نو قادر دی په بیا پیدا کولو سره لپاره د حساب او کتاب او جزاء او سزا حضرت شاه صاحب لیکی «جوړ ئی کړ بدن او درسم ئی کړ خصلت». یا مطلب دا چه په حکمت سره ئی ستا د اعضاؤ جوړښت او تناسب در سم کړی دی او ستا په مزاج او اخلاطو کښی ئی اعتدال درپیدا کړی دی.

فِىٓ أَىِّ صُورَةٍ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ ﴿٨﴾

په هر شان (کامل) صورت سره چه وئی غوښته ترکیب پیوند ئی کړی ته.

تفسیر : یعنی د ګردو (ټولو) په بڼو (صورتونو) کښی لږ او ډیر توپیر (فرق) او تفاوت پیدا کړ او هر یوه ته ئی بیل رنګ، شکل او ډول عنایت کړ او په مجموعی ډول سره ئی انسانانو ته د نورو ساکښانو (جاندارو) په نسبت ښه بڼه (شکل) ورکړه. ځینو پخوانیو پوهانو له دی ځخه دا مراد اخیستی دی که الله تعالیٰ اراده فرمایلی وی له هغه ځخه به ئی خر، سودر، سپی او نور ځناوران جوړول سره له دی قدرته دا د الله تعالیٰ ډیره مهربانی او خورا (ډیر) احسان دی چه تاسی ته ئی د سړی بڼه (شکل) درکړه نو هغه الله تعالیٰ چه له تاسی سره ئی دومره ښیګڼی (نیکئ) کړی او انعامات ئی دربښلی دی آیا د دی خبری وړ (لائق) دی چه سړی ئی امر او حکم ونه منی؟. بلکه مونږ ټولو مسلمانانو ته ښائی چه د الله اکرم شانه واعظم برهانه ګرد (ټول) احکام له زړه ومنو.

كَلَّا بَلْ تُكَذِّبُونَ بِٱلدِّينِ ﴿٩﴾

نه دی (دا غرور ستا مناسب) بلکه دروغ وایئ تاسی په ورځی د جزاء باندی.

تفسیر : یعنی د تیروتلو بل هیڅ سبب نشته تاسی چه د جزاء ورځ نه منئ نو ځکه هر شی مو

چه زره غواړی هغه کوی. او وايئ چه په مخ کښې د حساب او کتاب او پوښتنې ورځ نشته موږ دلته هر څه چه کوو څوک ئې ليکي؟ او شمير پسې ئې کرځي؟ او محفوظ ئې ساتي؟ کله چه مړه شو دا ټولې خبرې پای (آخر) ته رسيږی.

وَإِنَّ عَلَيۡكُمۡ لَحَٰفِظِينَ ﴿١٠﴾ كِرَامٗا كَٰتِبِينَ ﴿١١﴾ يَعۡلَمُونَ مَا تَفۡعَلُونَ ﴿١٢﴾

حال دا چه بيشکه په تاسې باندې خامخا ساتونکی ملائکې (د عمل، مقرر دی) عزتمنې (په نزد د الله) ليکونکی (د اعمالو د تاسې) پوهيږی (دغه ملائک) په هغه څه چه کوئ ئې تاسې.

**تفسير :** يعنې دغه ملائکې چه کرام الکاتبين نوميږی د الله تعالیٰ داسې عزتمنې بندګانې دی چه نه خيانت او درغلې کوی او نه کوم کار ناليکلې پريږدی او نه له هغوی څخه ستاسې کارونه پټيږی. کله چه کردی (ټولې) چارې داسې يو په يو په اهتمام سره ليکلې کيږی نو آيا دا کرد (ټول) دفترونه هم داسې مهمل او بيکاره پرې ښودلې شي؟ نه بلکه هرومرو (خامخا) په کار اچول کيږی او بيشکه د هر سړی عمل د هغه په مخ کښې راوړل کيږی چه د هغه ښه يا بده جزاء ومومی چه ښوونه ئې په تفصيل سره په دغه راتلونکې آيت کښې داسې شوی ده.

إِنَّ ٱلۡأَبۡرَارَ لَفِي نَعِيمٖ ﴿١٣﴾

بيشکه چه ابرار (نيکان-مؤمنان) خامخا په نعمتونو (د جنت) کښې دی.

**تفسير :** چه هلته به تل هر راز (قسم) بخششونه او نعمتونه مومی او تل به خوشاله او آرام وی او د هيڅ يوه شي غم او انديښنه به د جنتيانو سره نه وی. او نه به ئې له جنت څخه د وتلو او د راحت له قلته څه پروا وی.

وَإِنَّ ٱلۡفُجَّارَ لَفِي جَحِيمٖ ﴿١٤﴾ يَصۡلَوۡنَهَا يَوۡمَ ٱلدِّينِ ﴿١٥﴾
وَمَا هُمۡ عَنۡهَا بِغَآئِبِينَ ﴿١٦﴾

او بيشکه چه فجار بدکاران (کافران) خامخا په دوزخ کښې دی ننوځی دوی په هغه کښې په ورځې د جزاء کښې او نه به وی دوی هيڅ له هغه (دوزخ)

څخه پټیدونکی.

تفسیر : یعني نه به په تیښته له دوزخه جلا (جدا) کیدی شي او نه به له ننوتلو څخه وروسته له هغه ځای ووځي بلکه تل به هلته په کښې وي.

وَمَآ أَدْرٰىكَ مَا يَوْمُ الدِّينِ ﴿١٧﴾ ثُمَّ مَآ أَدْرٰىكَ مَا يَوْمُ الدِّينِ ﴿١٨﴾ يَوْمَ لَا تَمْلِكُ نَفْسٌ لِّنَفْسٍ شَيْـًٔا ۖ

او څه شي پوه کړی ئی ته څه ده ورځ د انصاف جزاء بیا څه شي پوه کړی ئی ته څه ده ورځ د انصاف جزاء (یعني بل څوک پری نه پوهیږی بی له الله نه. د جزا ورځ ده) هغه ورځ چه نه به وی مالک نشي کولی هیڅوک له هیچا سره هیڅ شي (د نفعی او د ضرر).

تفسیر : یعني هومره چه فکر او جاج ووهی. او په غور او خیال کښې دوب لاړ شئ بیا به هم د دی ویروونکی ورځی په پوره کیفیت باندی نه پوهیږئ! خو لنډه ئی دا چه دومره اوپوهیږئ چه په هغه ورځ به دا ټول خپلوی او خیښی، آشنائی او یارانی ورکی شي او هر سړی به «نفسی! نفسی!» ناری وهی. هیڅوک به پرته (علاوه) د مالک الملک له امر څخه د بل چا شفاعت نه کوی عاجزی، چاپلوسی، صبر، او استقلال او نور هیڅ کار نشي کولی «الا من رحم الله».

وَالْأَمْرُ يَوْمَئِذٍ لِّلَّهِ ﴿١٩﴾

او امر حکم په هغه ورځ کښې خالص الله لره دی.

تفسیر : یعني لکه چه په دنیا کښې د تولواک (حاکم) او باچا حکم په رعیت باندی او د مور او پلار خبره په اولادو باندی او د بادار وینا په نوکرانو چلیږی په هغه ورځ کښې به دا ټول حکمونه پای (آخر) ته رسیږی او د هیچا امر په بل چا باندی نه چلیږی او پرته (علاوه) د هغه مطلق شهنشاه او لوی ستر تولواک (حاکم) له احکامه څخنی بل څوک سا هم نشي وښکلی او هیڅ قوت او قدرت به نه لری او الله تعالیٰ به بی له ملتوبه او شرکته او د بل چا د ښکاره او پټی مرستی (مدد) څخه خپل احکام صادروی او ګردی (تولی) خبری ئی ژر تر ژره چلیږی او ګردی

(تولی) چاری به صورتاً او معناً، حساً او مادتاً د الله تعالیٰ د قدرت په قبضه او لاس کښې وی.

## تمت سورة الانفطار بفضله تعالیٰ ومنه وکرمه

سورة المطففين مكية وهي ست و ثلثون آية و فيها ركوع واحد رقم تلاوتها (۸۳) تسلسلها حسب النزول (۸٦)

نزلت بعد سورة العنكبوت وهي آخر سورة نزلت بمكة

د «المطففين» سورت مکی دی (۳٦) آیته یوه رکوع لری په تلاوت کښې (۸۳) په نزول کښې (۸٦) سورت دی. وروسته د العنکبوت له سورته نازل شوی دی او د مکی سورتونو آخری سورت دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِيْنَ ﴿۱﴾ الَّذِيْنَ إِذَا اكْتَالُوْا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُوْنَ ﴿۲﴾ وَإِذَا كَالُوْهُمْ أَوْ وَّزَنُوْهُمْ يُخْسِرُوْنَ ﴿۳﴾

افسوس هلاک خرابی یا کنده د دوزخ ده کم کونکیو لره (په پیمانه او تول کښې) هغه (کسان) هر کله چه ځان ته اخلی پیمانه نو پوره اخلی او کله چه پیمانه ورکوی یا ئی تلی هغوی ته نو کمی کوی (پوره ئی نه ورکوی).

**تفسیر :** له خلقو څخه خو خپل حق او برخه پوره اخیستل بد او مذموم نه دی دلته د دی خبری بد ویل مقصود نه دی. بلکه د لږ ورکولو د مذمت د تاکید دپاره دی. یعنی اگر که لږ ورکول په خپله فی نفسه هم مذموم دی خو که له دی سره د اخیستلو په وقت کښې د نورو بالکل رعایت نه کیږی نو دا لا مذموم دی پرته (علاوه) له رعایت کوونکی څخه چه که په هغه کښې یو عیب شته خو یو هنر هم لری نو دا دی په هغه پسی نو ځکه د هغه رومبنی سری عیب لا شدید شو څرنګه چه اصلی مراد د لږ ورکولو مذمت دی نو ځکه ئی دلته پیمانه او ژی او وزن، تلل دواړه یاد کړل تر څو خبره ښه ښکاره او جوته شی چه د پیمانه کولو او تللو د دواړو په وقت کښې لږ ورکوی. او څنګه چه پوره اخیستل پخپله فی نفسه کومه بده خبره نه ده. نو یو

ځلي ئې د تاکيد دپاره ياد کړ. د پيمانې او اوړې (تول) تخصيص ښائې د دې دپاره وې چه په عربو په تيره بيا په مدينې منورې کښې زياتره د کيل او پيمانې سره پيرودلو (اخيستلو) او پلورلو (بيع و شراء) رواج درلود (لرلو). پرته (علاوه) له دې د دې تخصيص نور وجوه هم شته.

أَلَا يَظُنُّ أُولَٰئِكَ أَنَّهُم مَّبْعُوثُونَ ﴿٤﴾ لِيَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿٥﴾

آيا يقين نه کوې (ډير اخيستونکي لږ ورکوونکي دغه) چه بيشکه دوې راپورته به کړل شي دپاره (د حساب) د لوئې ورځې (د قيامت).

**تفسير** : يعنې که هغوې داسې خيال لرې چه وروسته له مړ کيدلو بيا ژوندون شته او د الله تعالیٰ په مخ کښې د ګردو (ټولو) حقوقو او فرائضو او چارو حساب او شمير ورکول حق دې نو هيڅ کله به ئې داسې حرکت او خوځيدل نه کول.

يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٦﴾

هغه ورځ چه وبه دريږي خلق لپاره (د احکام) د رب د ټولو مخلوقاتو.

**تفسير** : چه الله تعالیٰ کله تجلي کوې او څه وخت ځمونږ حساب او کتاب ګورې او په حق مو رسوې او څه وقت مونږ ته ځمونږ چارې او فيصلې رااوروې.

كَلَّا إِنَّ كِتَابَ الْفُجَّارِ لَفِي سِجِّينٍ ﴿٧﴾

داسې پکار نه ده (او نه دې کوې ډير اخيستل او لږ ورکول په تجارت او غفلت له قيامت نه) بيشکه ليکلې شوې اعمال د فاجرانو (کافرانو) خامخا په سجين کښې دې.

**تفسير** : يعنې له سره هسې ګمان ونه کړ شي چه داسې ورځ به نه راځي ځکه چه هغه ورځ هرومرو (خامخا) راتلونکې ده نو د هغې ورځې د راتګ دپاره د ګردو (ټولو) نيکانو او بدانو عملنامې ليکلې د کرام الکاتبين په دفترو کښې مرتب ايښودلې شوې دې.
(اوس الله اجل شانه واعظم برهانه ويروې فاجران بالعموم او داسې فرمائي).

وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا سِجِّيْنٌ ۞٨ كِتٰبٌ مَّرْقُوْمٌ ۞٩

او څه شي پوه کړی ئی ته (ای محمده) چه څه دی سجین یو دفتر دی لیکلی شوی (د فجارو د اعمالو).

**تفسیر :** یعنی سجین یو داسی دفتر دی چه په هغو کښی د ګردو (ټولو) دوزخیانو نومونه لیکلی شوی دی او د بندګانو د چارو لیکونکی پرښتی چه د هغوی د نامه یادونه په پخوانی سورت کښی وشوه د دی بدکارانو د مره کیدلو او د عمل له پریکیدلو څخه وروسته د هر یوه سری چاری په بیلو بیلو دفترو کښی لیکی او په دی دفتر کښی ئی داخلوی د هر یوه دوزخی د نامه دپاره یوه بیله علامه او نښه ایښودله شی چه هغه دوزخی دی او د هغه د لیدلو څخه هر څوک پوهیږی چه پکښی خیر نشته له ځینو روایتو څخه دا ښکاری چه د کافرانو ارواح په هم دغه ځای کښی وی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «یعنی د هغو نومونه لیکل کیږی تر څو وروسته له مرینی هلته یوړل شی» ځینی پخوانی مفسرین وائی چه دا ځای تر اوومی ځمکی لاندی دی الله تعالیٰ اعظم برهانه په داسی خبرو ښه پوهیږی.

وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۞١٠ الَّذِيْنَ يُكَذِّبُوْنَ بِيَوْمِ الدِّيْنِ ۞١١ وَمَا يُكَذِّبُ بِهٖٓ اِلَّا كُلُّ مُعْتَدٍ اَثِيْمٍ ۞١٢

افسوس هلاک خرابی یا کنده د دوزخ ده په دغی ورځی کښی دروغ ویونکیو لره هغه کسان چه دروغ وائی په ورځی د انصاف جزاء باندی. او دروغ نه ګڼی دغه (ورځ د جزاء) مګر هر یو له اندازی تیریدونکی ګنهګار.

**تفسیر :** هغه څوک چه د جزاء له ورځی څخه منکریږی په حقیقت کښی د الله تعالیٰ د ربوبیت او د هغه عدل، قدرت او حکمت او نورو صفاتو څخه منکریږی او هغه څوک چه د الله تعالیٰ له دی صفاتو څخه منکریږی نو هومره چه په ګناهونو کښی زړه‌ور شی لږ ده. د «معتد اثیم» یعنی له اندازی تیریدونکی ګنهګار بل بد عادت دغه دی چه:

اِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِ اٰيٰتُنَا قَالَ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ۞١٣

کله چه ولوستلی شی په ده باندی آیتونه (د قرآن) زمونږ نو وائی (جهلاً او عناداً چه دا) چتی (بیکاره) قصی دی د پخوانیو.

**تفسیر :** یعنی کله چه قرآن کریم او د پند خبری آوری وائی داسی خبری به پخوانیو خلقو هم کولی اوس هم هغه پخوانی قصی او له کاره وتلی افسانی ویلی کیږی نو مونږ له داسی قصو او افسانو څخه کله ویریدونکی یو (العیاذ بالله).

كَلَّا ۖ بَلْ ۜ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿١٤﴾

نه ده داسی (لکه چه وائی منکران) بلکه زنګ اچولی دی پر زړونو د دوی هغو ګناهونو چه ؤ دوی چه کول به ئی.

**تفسیر :** یعنی څمونږ په آیتونو کښی هیڅ د شک او شبهی ځای او موقع نشته خبره خو دا ده چه د ګناهونو د کثرت او مزاولت څخه د هغوی په زړونو باندی زنګ لویدلی دی نو ځکه د صحیحه ؤ حقائقو انعکاس په هغو کښی نه کیږی. په حدیث کښی راغلی دی «کله چه سړی ګناه کوی یو تور تکی د هغه په زړه باندی پیدا کیږی که توبه ئی وکړه نو دا تکی لری کیږی که نه هومره چه ګناه کوی په همغه اندازه دا تکی پلنیږی او ارتیږی تر دی چه د ده زړه تک تور شی او د حق او د باطل هیڅ فرق او تمیز نشی کولی» د مکذبینو حال هم داسی وګڼه چه له دیرو شرارتونو څخه د دوی زړونه بالکل مسخ شوی دی نو ځکه په آیت او د الله تعالیٰ په خبرو او نښو باندی ملندی وهی او پری مسخری کوی (نعوذ بالله).

كَلَّا إِنَّهُمْ عَن رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوبُونَ ﴿١٥﴾

رښتیا ده چه بیشکه دوی به له (لقاء د) رب خپله په دغی ورځی (د قیامت کښی) هرومرو (خامخا) په حجاب کښی وی (نه به وینی الله)

**تفسیر :** یعنی د دی انکار او تکذیب د انجام او پای (آخر) څخه ښائی چه بی فکره نشی هغه وقت خامخا راتلونکی دی چه په هغه کښی مؤمنین د حق سبحانه و تعالیٰ په لقاء او لیدلو سره مشرفیږی او دا بدبختان به تری محروم او ممنوع او بی برخی پاتی کیږی.

ثُمَّ إِنَّهُمْ لَصَالُوا الْجَحِيمِ ﴿١٦﴾ ثُمَّ يُقَالُ هَٰذَا الَّذِي كُنتُم بِهِ تُكَذِّبُونَ ﴿١٧﴾ كَلَّا

پس بیشکه دوی چه دی خامخا ننوتونکی دی دوزخ ته. بیا به وویل شي (دوی ته چه) دا هغه (عذاب) دی چه وئ تاسی چه هغه به مو دروغ گانه انکار به مو تری کوو. له سره نه ده داسی.

**تفسير** : یعنی د دی بدانو او نیکانو پای (آخر) او انجام هیڅکله یو شانی نشی کیدی او الله جل جلاله ابرارو سره دغسی معامله فرمائی:

إِنَّ كِتَٰبَ ٱلْأَبْرَارِ لَفِى عِلِّيِّينَ ۝١٨ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا عِلِّيُّونَ ۝١٩
كِتَٰبٌ مَّرْقُومٌ ۝٢٠

بیشکه کتاب لیکلی اعمال د ابرارو نیکانو خامخا په علیین کښی دی. او څه شي پوه کړی ته (ای محمده) چه څه دی علیین؟ یو دفتر دی لیکلی شوی (د اعمالو د ابرارو).

**تفسير** : چرته چه د جنتیانو نومونه لیکلی شوی دی او د هغو یا د ښو چارو پانی سره روني او ترتیب شوی دی پروبی د هغو ارواح هلته بیولی کیږی بیا ئی د خپلی هستوګنی اصلی ځای ته بیائی د دی ارواحو څه علاقی او اړیکی به له قبر سره هم وی. ویل کیږی چه دا ځای پر اووم اسمان دی او د مقربینو ارواح به هلته هستوګنه لری والله اعلم.

يَشْهَدُهُ ٱلْمُقَرَّبُونَ ۝٢١

چه ګوری حاضریږی هغه ته مقربان (د الله ملائکی او نور بندګان).

**تفسير** : مقربی پرښتی یا د الله تعالیٰ مقرب بندګان په خوشالی سره د مؤمنانو اعمالنامی ګوری او هلته به حاضر وی.

إِنَّ ٱلْأَبْرَارَ لَفِى نَعِيمٍ ۝٢٢ عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ يَنظُرُونَ ۝٢٣

بیشکه ابرار نیکان خامخا په نعیم لوی نعمت د (جنت) کښی دی پر (مکللو) تختونو باندی ناست ګوری (د الله لقاء او د جنت نعماء، او تری

متلذذ کيږي يا به ګوري دوزخيانو ته)

**تفسير :** يعني په خورا (ډيرو) ښو پالنګونو به ناست وي او په زړه پورې د جنت ښي ننداری به کوي او د الله تعالىٰ په ليدلو سره به خپلې سترګې رڼوي او زړونه به پرې خوشالوي.

تَعۡرِفُ فِي وُجُوهِهِمۡ نَضۡرَةَ ٱلنَّعِيمِ ﴿٢٤﴾

پيژنې به ته (ای کتونکيه!) په مخونو د دوی کښې تازه ګي د نعيم (تنعم د جنت).

**تفسير :** يعني د جنت له عيش او آرام څخه به د هغوی څيرې داسې ښي او تروتازه او بارونقې ښکاري چه هر ليدونکی به له لرې پرې پوهيږي چه دا کسان په خورا (ډير) عيش، هوسائی (آرام) او راحت او تنعم کښې دي.

يُسۡقَوۡنَ مِن رَّحِيقٖ مَّخۡتُومٍ ﴿٢٥﴾ خِتَٰمُهُۥ مِسۡكٞۚ

ورڅښولی شي (هغوی ته) له خالصو شرابو مهر کړيو شويو څخه چه مهر به ئې مشک وي.

**تفسير :** حضرت شاه صاحب ليکي «چه په جنت کښې به د خورا (ډير) خالصو شرابو ويالې د هر چا د کور د مخه وي. خو دا خورا (ډير) ښه او نادر شراب دي چه سر به ئې تل مهر وي په جنتي مشکو سره». لکه چه په دنيا کښې مهر په لاکو يا مومو يا خاورو يا ختو يا نورو شيانو باندې لګول کيږي کله چه د هغه ځای خاورې مشک دي نو په هغو باندې دا مهر لګاوه کيږي. دا ښيښه چه په لاس کښې واخيسته شي دماغ معطريږي او تر آخره پورې د خوشبوئی خورا (ډير) ښه رائحه او وږم ترې پورته کيږي.

وَفِي ذَٰلِكَ فَلۡيَتَنَافَسِ ٱلۡمُتَنَٰفِسُونَ ﴿٢٦﴾

او په دغه (شرابو او نورو جنتي نعماؤ) باندې پس بايده دی چه رغبت وکړي رغبت کوونکي (په کولو د فضائلو او پريښودلو د رذائلو چه عجلت وکړي په حسناتو او ځان وساتي له سياتو).

**تفسیر :** یعنی د دنیا ناپاک شراب د دی وړ (لائق) نه دی چه کوم ښه سری هغه ته رغبت وکړی. هو یواځی شراب طهور د دغی خبری لائق او وړ دی چه په هغو باندی خلق ورمات شی او یو په بل باندی د هغو په څښلو کښی وړاندی والی وکړی (اللّهم ارزقنا).

وَمِزَاجُهُۥ مِن تَسْنِيمٍ ﴿٢٧﴾ عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا ٱلْمُقَرَّبُونَ ﴿٢٨﴾

او ګډون د هغه (شراب دی له اوبو د) تسنیم څخه دا (تسنیم) یوه چینه ده (په جنت کښی) چه څښی به له هغی څخه د (الله) مقربان.

**تفسیر :** یعنی مقرب خلق یواځی د دی چینی خالص شراب څښی او نیکانو ته به د دی شرابو ګډ ورکول کیږی چه لکه ګلاب او نور په هغه شراب کښی ګډیږی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ أَجْرَمُوا۟ كَانُوا۟ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ يَضْحَكُونَ ﴿٢٩﴾

بیشکه هغه کسان چه کافران شوی دی ؤ دوی په هغو کسانو باندی چه ایمان ئی راوړی ؤ خندل به ئی (مسخری به ئی پری کولی).

**تفسیر :** او پخپلو منځونو کښی به ئی په تمسخر او استهزاء سره داسی ویل چه د دی بی هوشانو په مغزو کښی څه یو چتی (بیکاره) خیال لویدلی دی چه د نن موجود او محسوس خوندونه او لذتونه د جنت په صباح موهومو چرتونو (خیالونو) او خیالی لذتونو باندی له لاسه وباسی (العیاذ بالله).

وَإِذَا مَرُّوا۟ بِهِمْ يَتَغَامَزُونَ ﴿٣٠﴾

او کله چه تیریږی منکران پر مؤمنانو باندی هغوی ته پخپلو منځونو کښی سره سترګکونه وهی (لپاره د استهزاء).

**تفسیر :** او یو تر بله په سترګو اشارتونه کوی او د حال او قال په ژبه پخپلو منځونو کښی سره داسی وائی چه وګورئ هم دوی بی عقلان او احمقان دی چه د جنت په پور (قرض) باندی د دنیا له نغدو څخه ځان بی برخی کوی (استغفرالله).

وَإِذَا انْقَلَبُوٓا إِلَىٰٓ أَهْلِهِمُ انْقَلَبُوا فَكِهِينَ ﴿٣١﴾

او کله چه وګرځی خپلو کورونو ته (نو) ګرځی دوی خوشاله (خبری جوړوونکی په سبب د تمسخر او استهزاء پر مؤمنانو باندی)

**تفسیر :** یعنی په خوش طبعی او توکو په مسلمانانو باندی ملندی وهی او په خپل عیش او عشرت باندی مفتون او مغرور شوی وائی چه ځمونږ عقیده او فکر ښه دی که نه مونږ ته دومره نعمتونه او هوسائی (آرام) ولی او له کومه رسیده.

وَإِذَا رَأَوْهُمْ قَالُوٓا إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَضَآلُّونَ ﴿٣٢﴾

کله چه وبه لیدل (کفارو) دغه (مؤمنان) نو ویل به ئی پخپل منځکښی چه بیشکه دغه (مؤمنان) خامخا بی لاری دی.

**تفسیر :** او ګمراهان دی چه خامخا په زهد او ریاضت کښی خپل ځانونه له لاسه وباسی او د جنت موهومو لذتونو ته په اوسنی موجوده لذتونو باندی ترجیح ورکوی او په لاحاصل او بیګتی (بی فائدی) ربړو (تکلیفونو) باندی د حقیقی کمالاتو نوم ایښی دی آیا دا ښکاره ګمراهی نه ده چه سړی د خپل عیش او آرام او هوسائی (راحت) او کور او کهول څخه مخ واړوی او په یوه سړی پسی رهی (روان) شی او خپل پلارنی دین پریږدی. (معاذ الله)

وَمَآ أُرْسِلُوا عَلَيْهِمْ حَٰفِظِينَ ﴿٣٣﴾

حال دا چه نه دی لیږلی شوی (کافران) پر دغو (مؤمنانو) باندی ساتونکی څارونکی.

**تفسیر :** چه شاهدی ووائی په هدایت او ضلالت د دوی دغه الله جل شانه واعظم برهانه فرمان او بیان دی چه دا کافران پر مسلمانانو باندی پیره‌داران نه دی مقرر شوی دا احمقان له خپلو بدو چارو څخه سترګی پټوی. او د هغوی د هر راز (قسم) حرکاتو کتنه کوی. د خپل ځان د اصلاح په فکر کښی نه لویږی او هغو کسانو ته چه په سمه لاره ځی ګمراه او احمق وائی.

فَالْيَوْمَ الَّذِينَ ءَامَنُوا مِنَ الْكُفَّارِ يَضْحَكُونَ ﴿٣٤﴾

نو په نن (ورځ د قیامت کښی به) هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی په

کفارو باندی خاندی.

**تفسير :** يعنی د قيامت په ورځ به مسلمانان په دی کافرانو پوری خاندی چه دا خلق څومره ناپوه ؤ چه فانی او خسيس څيز ته ئی په ښو نعمتونو او پاتی کيدونکو نفيسو شيانو باندی ترجيح ورکوله. نو اوس څنګه په دوزخ کښی پراته دی؟ او د دائمی عذاب خوند څکی؟.

عَلَى الْأَرَآئِكِ يَنْظُرُوْنَ ﴿۳۵﴾

پر مکللو تختونو باندی ناست ګوری (د الله لقاء او د جنت نعماؤ ته) او تری متلذذ کيږی يا ګوری کفارو ته چه څرنګه په عذابيږی.

**تفسير :** يعنی د خپلی خوشالی او د کافرانو د بد ژوند ننداری کوی.

هَلْ ثُوِّبَ الْكُفَّارُ مَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿۳۶﴾ ع

بيشکه چه جزاء ورکړه شوه کفارو ته همغسی چه کول ئی (په دنيا کښی له معاصيو).

**تفسير :** يعنی هغه کسان چه په دنيا کښی ئی پر مسلمانانو باندی خندل نن د هغوی خپل حال د خنديدو لائق او وړ دی او مسلمانان د هغو په تيرو حماقتونو باندی خاندی.

**تمت سورة المطففين بفضل الله تعالىٰ ومنه وكرمه**

سورة الانشقاق مكية وهى خمس وعشرون آية وفيها ركوع واحد رقم تلاوتها (٨٤) تسلسلها حسب النزول (٨٣) نزلت بعد سورة «الانفطار»

د «الانشقاق» سورت مکی دی (۲۵) آيته يوه رکوع لری په تلاوت کښی (٨٤) په نزول کښی (٨٣) سورت دی

وروسته د الانفطار له سورته نازل شوی دی.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

شروع کوم په نامه د الله چه ډير زيات مهربان پوره رحم لرونکی دی

إِذَا السَّمَآءُ انشَقَّتۡ ① وَأَذِنَتۡ لِرَبِّهَا وَحُقَّتۡ ②

کله چه آسمان شق څیری شي وچوی او واوری ومنی امر حکم د رب خپل او (دا آسمان) لائق ور دی (د هغه الله حکم منلو ته).

تفسیر : یعنی کله چه د الله تعالیٰ له خوا د څیریدلو «تکوینی» حکم وشي آسمان به هغه تعمیلوی او منی ئی او آسمان د مقدور او مقهور کیدلو له پلوه د دی خبری ور (لائق) دی چه سره له دومره عظمت او رفعت او لوی والی او هسکوالی (اوچتوالی) د خپل خالق او مالک په مخ کښی غاړه کیږدی او د هغه په دی حکم منلو کښی هیڅ ونه وائی.

وَإِذَا الۡأَرۡضُ مُدَّتۡ ③

او کله چه ځمکه وغوړوله شي.

تفسیر : د محشر دپاره به ځمکه د ربړ په شان جوړیږی او د هغی د مخ گرد (تول) عمارات او غرونه او نور شیان لری کیږی تر څو په یوی مستوی سطحی باندی گرد (تول) پخوانی او وروستنی خلق سره یو ځای او په یوه وخت کښی بی له پردی او حجاب او حائل ځخه وکتی شي.

وَأَلۡقَتۡ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتۡ ④

او د باندی وغورځوی هغه چه دننه پکښی وی له مړیو او خزائنو ځخه او تښه خالی شي له تولو اشیاؤ نه.

تفسیر : په هغی ورځی کښی ځمکه خپلی خزانی او مړی او نور اجزاء له دننه ځخه د باندی غورځوی او منځ ئی له هر هغه شي ځخه بالکل تشیږی چه د هغو تعلق د بندگانو له حساب او کتاب او سره وی.

وَأَذِنَتۡ لِرَبِّهَا وَحُقَّتۡ ⑤

او واوری ومنی امر حکم د رب خپل او (دا ځمکه) لائق ور ده (د هغه الله حکم منلو ته)

**تفسير** : کله چه ځمکه او آسمان د هغه الله تعالیٰ د ذات او د تکوینی حکم تابع او منقاد دی نو سری ته کله ښائی چه د هغه لوی پروردګار له تشریعی حکم څخه سر وغړوی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡإِنسَٰنُ إِنَّكَ كَادِحٌ إِلَىٰ رَبِّكَ كَدۡحٗا فَمُلَٰقِيهِ ۝٦

ای انسانه بیشکه ته عمل کوونکی ئی په پوره سعی سره تر وقت د رسیدلو رب خپل ته په عمل سعی کولو سره نو ته یو ځای کیدونکی ئی له دغه (خپل عمل او سعی سره او جزا ئی مومی خیر وی که شر).

**تفسير** : یعنی د پروردګار په مخ کښی له رسیدلو څخه پخوا هر سری له خپل استعداد سره سم او موافق مختلف او راز راز (قسم) ربړونه (تکلیفونه) ګالی (برداشت کوی) څوک ئی په طاعت کښی زیار (محنت) ګالی (برداشت کوی) څوک ئی په سر غړولو کښی ځان ستړی کوی که د خیر په لاره کښی وی یا د شر په لاره کښی هر رنګه ربړونه (تکلیفونه) ویاسی اخر د خپل پروردګار حضور ته ورځی او د خپلو اعمالو او چارو نتائج به ووینی.

فَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ ۝٧ فَسَوۡفَ يُحَاسَبُ حِسَابٗا يَسِيرٗا ۝٨

پس هر هغه څوک چه ورکړه شی کتاب عملنامه د ده په ښی لاس د ده کښی نو ژر ده چه حساب به وکړ شی له ده سره حساب آسان.

**تفسير** : آسان حساب دا دی چه په هره خبره باندی به تنقیدونه نه کیږی او یواځی د هغه پانی وړاندی کیږی او بی له بحث او مناقشی څخه به خوشی کیږی.

وَيَنقَلِبُ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِۦ مَسۡرُورٗا ۝٩

او وبه ګرځی اهل خپل ته (په جنت کښی) خوشاله کړی شوی.

**تفسير** : نه د سزا خوف وی نه د غصی ویره په ډیر امن او اطمینان سره د خپلو احبابو او اقاربو او مسلمانانو ورونو ته وررسیږی. او له دوی سره په خوښی سره مشغولیږی او له هغوی سره ګرځی.

وَاَمَّا مَنۡ اُوۡتِیَ كِتٰبَهٗ وَرَآءَ ظَهۡرِهٖ ۝۱۰

او هر هغه څوک چه ورکړ شي کتاب عملنامه د ده وروسته تر شا د ده (په کیڼ لاس ئی).

**تفسیر** : یعني ورکړه شي عملنامه په کیڼ لاس کښي د شا له لوري او پرښتي نه غواړي چه د ده هغه مخ ووینی نو په دی وسیله خپل زیات نفرت او کراهت له هغه څخه ښکاره کوي. کیدی شي چه مراد ئی داسي وي چه د دوی متی به ترلی وي نو ځکه ئی عملنامی د شا له لوری ورکولي کیږي.

فَسَوۡفَ یَدۡعُوۡا ثُبُوۡرًا ۝۱۱

پس ژر به ناري کړي دي ای هلاکه (ځما راحاضر شه! دا دی وقت دی).

**تفسیر** : یعني د عذاب له ویری څخه به مرګ غواړي او د خپل هلاکت آرزو او تمنا به کوی.

وَّیَصۡلٰی سَعِیۡرًا ۝۱۲ اِنَّهٗ كَانَ فِیۡۤ اَهۡلِهٖ مَسۡرُوۡرًا ۝۱۳

او ننه به وځی دی بل اور (د دوزخ) ته چه بیشکه ؤ دی په (دنیائی) اهل خپل کښي خوشاله (په کفر او معاصي غافل له آخرته).

**تفسیر** : یعني په دنیا کښي له آخرته بي فکره و د هغه عوض او رنج دا دی چه نن په سخت غم ککړ دی پرته (علاوه) له دی هغه کسان چه د دنیا د هستوګنی په وقت کښي د آخرت له ویری ویلی کیدل هغوی نن بالکل ډاډه او په خوښي کښي دی. منکران هلته خوښ ؤ او مسلمانان دلته خوشال دی.

اِنَّهٗ ظَنَّ اَنۡ لَّنۡ یَّحُوۡرَ ۝۱۴

بیشکه ده به یقین کاوه په دنیا کښي داسي چه دی به له سره بیرته نه ګرځی (الله ته او منکر ؤ له بعثه)

**تفسیر :** د ده کله داسی خیال و چه یوه ورځ به د الله تعالیٰ په مخ کښی ودریږی او د یوی ذری شمیر جواب به ورکوی نو ځکه په ګناه او شرارت کښی داسی زړه‌ور او دلیر وو. یعنی ده به په دنیا کښی ګمان کاوه چه له سره به الله تعالیٰ ته رجوع ونه کړم او قیامت نشته! نه ده داسی بلکه

بَلٰٓىۚ اِنَّ رَبَّهٗ كَانَ بِهٖ بَصِيْرًا ﴿۱۵﴾

هو! دی رجوع کوی (هرومرو (خامخا) الله ته) بیشکه رب د ده دی په ده ښه پوه لیدونکی بینا.

**تفسیر :** یعنی له پیدا کولو ځنی تر مرګ پوری به ئی دا کتل چه د ده روح له کوم ځای ځخه راغلی ده؟ او بدن ئی له څه شی څخه روغ دی؟ څه اعتقاد لری؟ عمل ئی څه دی؟ په زړه ئی څه ګرځی؟ له ژبی ئی څه وځی؟ لاسونه، پښی بی څه کوی؟ څه ګتی؟ څه خوری؟ څه کوی؟ وروسته د هغه له مرګه د هغه روح چیری لاړ؟ د ده د بدن اجزاء په کوم کوم ځای کښی دی؟ او نوری پوښتنی. هغه الله تعالیٰ چه د سری له احوالو څخه په دی اندازه خبر او د هر څیز په ګردو (ټولو) خیرو او کلی او جزئی احوالو باندی پوه دی نو آیا څه ګمان کاوه شی چه هغه به دی هم داسی مهمل او معطل پریږدی؟ ضرور دی چه د هغه د اعمالو نتیجی او ثمری به ورښکاره کړی.

فَلَآ اُقْسِمُ بِالشَّفَقِۙ ﴿۱۶﴾ وَالَّيْلِ وَمَا وَسَقَۙ ﴿۱۷﴾

پس قسم خورم په شفق سپینوالی د عشاء پس له سوروالی د ماښام او په شپه او په هغو (څیزونو) چه جمع کړی وی (شپی هغه په تیارو خپلو کښی)

**تفسیر :** یعنی سری او نور ساکښان (جاندار) چه د ورځی له مخی د معاش په تلاش کښی د باندی ګرځی او هر چیری په خپلو چارو کښی بوخت دی د شپی له لوری ټول سره یو ځای کیږی او هر یو په خپلو ځایونو کښی سره ټولیږی.

وَالْقَمَرِ اِذَا اتَّسَقَۙ ﴿۱۸﴾

او (قسم خورم) په سپوږمی کله چه پوره کامل شی.

**تفسیر :** یعنی د څوارلسمی شپی سپوږمی چه د خپل کمال حد ته رسیدلی وی. (او جواب د

پاس قسمونو دا دی چه:)

لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَنْ طَبَقٍ ﴿١٩﴾

خامخا سواره به شئ وبه رسیږی تاسی ای خلقو یو حال ته وروسته له بل حال نه.

**تفسیر :** یعنی د دنیا په ژوندون کښی له مختلفو دورو څخه په تدریج سره تیر شوی په پای (آخر) کښی د مرګ پوړ (زینه) ده، بیا د برزخ عالم دی، وروسته قیامت، الله تعالیٰ پوهیږی چه په قیامت کښی د څه څه احوال ولیدل؟ او د څه څه مراتبو پریکول درجه په درجه په مخ کښی دی؟ لکه چه د شپی په اوله برخه کښی تر څو چه شفق وی یو شانته سره او سپینه رنا وی نو دا رنا فی الحقیقت او په رښتیا سره وی چه د لمر د پاتی شوی اثرات او اغیزی نښی دی چه پس له ورکیدلو د هغی د ظلمت بله دوره شروع کیږی چه هر شی په کښی پټیږی. په شپه کښی سپوږمی هم راخیژی چه درجه په درجه د هغی رنا زیاتیږی، کمیږی او په څوارلسمی شپی کښی د پوره سپوږمی رنا هغه توره تیاره فضاء رنوی، ګواکی د انسانی احوال طبقات هم د شپی مختلفو کیفیاتو ته ورته او ورسره مشابه دی والله اعلم.

فَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٢٠﴾

پس څه دی دغو (انسانانو ته) چه ایمان نه راوړی.

**تفسیر :** چه وروسته له مرګه دوی د الله تعالیٰ په طرف رجوع کوی او هم یو سخت منزل په مخ کښی دی چه هغه ته کافی توښه په کار ده.

وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْآنُ لَا يَسْجُدُونَ ﴿٢١﴾

او کله چه ولوست شی په دوی باندی قرآن نو غاړه نه ږدی سجده نه کوی (دپاره د لوستلو ئی).

**تفسیر :** که د هغوی عقل پخپله دا حالات نشو موندلی نو لازم و چه د قرآن کریم له بیان څخه ئی ګټه (فائده) اخیستلی خو برته (علاوه) له دی د دوی حال دا دی چه د قرآن معجز بیان اوری خو هیڅ د هغه په مخ کښی د عاجزی او تذلل اظهار نه کوی تر دی چه مسلمانان د پاک

الله تعالیٰ دا آیات اوری سجده کوی هغوی د هم دی تشی سجدی توفیق هم نه لری.

بَلِ الَّذِينَ كَفَرُوا يُكَذِّبُونَ ﴿٢٢﴾ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُوعُونَ ﴿٢٣﴾

بلکه هغه کسان چه کافران شوی دی په الله دروغ گڼی (قرآن). او الله ته ښه معلوم دی هغه څه چه دوی ئی پټوی په زړه کښې ئی ساتی (له کفر او نفاق).

**تفسیر** : یعنی یواځی دا خبره نه ده چه هغوی د الله تعالیٰ آیتونه آوری او سجده نه کوی او انقیاد او تذلل ته غاړه نه ږدی بلکه زیات له دی نه د هغو آیتونو تکذیب پخپلو ژبو سره هم کوی او د دوی له زړونو څخه چه په هغه کښې د تکذیب، انکار، بغض، عناد او د حق د دښمنی ډیرئ پرتی دی الله تعالیٰ ښه خبر دی

فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢٤﴾

پس بشارت زیری ورکړه دوی ته په عذاب دردناک سره (په آخرت کښې).

**تفسیر** : یعنی زیری ورکړئ په هغو باندی څه شی چه هغوی گټی د هغی نتیجه او میوه به هرومرو (خامخا) هغوی ته رسیږی او د هغوی دا کوششونه او زیارونه به هیڅ نه ابته (خراب) کیږی او خامخا هغوی ته جزاء وررسیږی.

إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ﴿٢٥﴾ ع

مگر خو هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه) هغوی ته دی اجر ثواب بی نهایته چه خلاصی او کمی نه لری.

**تفسیر** : چه هیڅ کله پای (آخر) ته نه رسیږی او تل دائم او قائم او لا ینقطع دی.

**تمت سورة الانشقاق بفضل الله تعالیٰ ومنه وکرمه**

سورة البروج مكية وهي اثنتان وعشرون آية و فيها ركوع واحد. رقم تلاوتها (۸۵) تسلسلها حسب النزول (۲۷) نزلت بعد سورة الشمس

د «البروج» سورت مكي دی (۲۲) آيته يوه ركوع لري په تلاوت كښې (۸۵) په نزول كښې (۲۷) سورت دی

وروسته د «الشمس» له سورته نازل شوی دی

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع كوم په نامه د الله چه ډير زيات مهربان پوره رحم لرونكى دی

وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْبُرُوْجِ ﴿١﴾

قسم په آسمان چه خاوند د برجونو دی.

**تفسير :** له برجونو څخه مراد هغه دولس برجونه دي چه په يوه كال كښې لمر په هغو كښې گرځي يا د آسماني قلعي برجونه او برخي دي چه پرښتي پيرى په كښې كوي يا هغه لوی ستوري دي چه په ليدلو سره هم په آسمان كښې ښكاري والله اعلم.

وَالْيَوْمِ الْمَوْعُوْدِ ﴿٢﴾ وَشَاهِدٍ وَّمَشْهُوْدٍ ﴿٣﴾

او (قسم دی) په هغي ورځي وعدى كړی شوی (چه د قيامت ورځ ده) او (قسم دی) په هغي ورځي چه حاضريږي (چه ورځ د جمعي ده) او په هغي ورځي چه هغي ته ورحاضريږي (خلق چه ورځ د عرفي ده).

**تفسير :** خلق په گردو (تولو) ښارونو كښې حاضريږي د جمعي په ورځ او د گردي (تولي) دنيا خلق سره يو ځای توليږي د عرفي په ورځ حج ته نو ځكه په روايتونو كښې راغلي چه (شاهد) د جمعي ورځ ده او (مشهود) د عرفي. برسيره پر دی د شاهد او د مشهود په تفسير كښې ډيری خبری دی خو اوفق بالروايات هم دا خبره ده والله اعلم.

**تنبيه :** د قرآني قسمونو په نسبت مو د القيامة د سورت په شروع كښې څه ليكلي دی ښائی هغه په هر ځای كښې په زړه ولرئ او له دی قسمونو څخه د قسم د جواب مناسبت دا دی چه د دی گردو (تولو) څخه دا ښكاري چه الله تعالىٰ مالک د امكنه ؤ او ازمنه ؤ دی او د داسی مالک‌الكل له حكم څخه پرته (علاوه) كار كوونكى د لعن او عقوبت مستحق او ور (لائق) دی. او

جواب د قسم محذوف دی لکه چه پری دغه راتلونکی آیت دلالت کوی چه:

قُتِلَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡأُخۡدُودِ ۝٤ ٱلنَّارِ ذَاتِ ٱلۡوَقُودِ ۝٥

وژلی شوی دی خاوندان د کندی د خندقونو د اور (په څمکه کښی) چه خاوند د بلیدلو وه (په ګوګړو او په ډیرو لرګیو او په سرېو سره).

**تفسیر :** یعنی مغضوب او ملعون شول هغه خلق چه لوی لوی خندقونه ئی کنستلی او له اوره ئی ډک کړی او ډیر لرګی ئی پکښی واچول او بیا ئی سره کړل. د (اصحاب الاخدود) څخه مراد څوک دی؟ مفسرین څو واقعات وائی خو هغه قصه چه په صحیح مسلم، جامع ترمذی، مسند احمد او نورو کښی یاده شوی ده لنده ئی دا ده چه په پخوانیو پیریو کښی کوم کافر باچا وو. چه له هغه سره یو کوډګر (ساحر) و کله چه د کوډګر مرګ نژدی شو، له باچا څخه ئی غوښتنه وکړه، چه یو هښیار او پوه هلک دی ماته راکړ شی چه زه دا خپل علم ورزده کړم او وروسته له ما څخه دا علم له لاسه ونه ځی یو هلک د دی کار دپاره وټاکل (مقرر) شو چی هره ورځ به ئی د هغه کوډګر څخه سحر او کوډی زده کولی. د ده په لاره کښی یو عیسائی راهب وو چه د هغی پیری په اعتبار د هغه دین حق و دغه هلک له هغه سره هم خپل تګ راتګ شروع کړ او په پټه ئی د هغه راهب دین ومانه او د هغه د فیض او کرامت له برکته د ولایت او کرامت خاوند شو یوه ورځ دی هلک ولیدل چه یو ځیرووونکی ځناور لکه ځمری یا پړانګ او نور لاره نیولی او خلقو ته ئی زیاته ویره او پریشانی وروراندی کړی ده. هغه یوه تیږه (ګټه) په لاس کښی واخیسته او دعا ئی وکړه «ای الله! که د راهب دین حق وی نو ځما په دی ډبره دا ځناور مړ کړی» دا ئی وویل او تیږه (ګټه) ئی وروغورځوله چه د هغی له اغیزی او اثر هغه ځناور له کاره ووت په خلقو کښی یو لوی شورماشور جوړ شو چه دغه هلک ډیر علم لری یوه پړانده چه دا انګاځه او آوازه واوریده ورځنی وئی غوښتل چه «ځما سترګی رارنی کړه!» هلک وویل «کوونکی زه نه یم هغه ځمونږ الله تعالیٰ دی که ته هغه منی او کفر پریږدی نو دعا درته کوم هیله (امید) شته چه ستا سترګی رنی شی» لکه چه هم داسی هم وشوه. ورو ورو دا خبری ګردی (تولی) باچا ته ورسیدلی. باچا ورته په قهر شو هغه هلک راهب او ړوند ئی وغوښتل او وروسته له څه خبرو او اترو څخه ئی راهب او ړوند سره ووژل د هلک په نسبت ئی امر ورکړ چه هغه دی له یوه لوړ (اوچت) غره څخه په رغړولو سره وواژه شی» خو د الله تعالیٰ په قدرت هغه کسانو چه دا هلک ئی د ځان سره پر غره باندی خیژولی ؤ هغوی پخپله له غره څخه ورغړیدل او دا هلک روغ رمټ بیرته راغی. بیا باچا امر ورکړ چه «هغه دی په سین کښی ډوب کړ شی!» هلته هم دا پیښه وروراندی شوه او هغه ګرد (تول) سری چه له ده سره تللی ؤ تول په سیند کښی ډوب شول او دی جوړ او روغ بیرته راوګرځید په پای (آخر) کښی هلک باچا ته وویل زه د

ځان د وژلو چل دروښیم تاسی ګرد (تول) سری په یوه میدان کښی سره تول کری. د هغوی پر مخ کښی ما یو غرغره باندی وځروی. او د دی لفظ په ویلو سره پر ما باندی غشی ولی «بسم الله رب الغلام» د هغه الله په نامه چه د دی هلک رب او پالونکی دی کله چه باچا داسی وکړه او هغه هلک د خپل رب تر نامه ځار او مړ شو او خلقو دا عجیبه واقعه ولیدله تولو وویل (آمنا برب الغلام، ایمان مو راووړ د دی هلک په رب او پالونکی باندی) نو وزیرانو باچا ته وویل «وګوره چه د هغی خبری په سبب چه دا ګرد (تولی) چاری وشوی اخر ته هغه پیښه شوه. ړومبی به یو دوو سړیو ایمان راووړ اوس خورا (ډیر) ډیر خلق مؤمنان شول» باچا زیات په قهر شو او د ډیرو لویو او ژورو خندقونو د کنستلو امر ئی ورکړ او هغه ئی ښه له اوره څخه ډک کړل او اعلان ئی وکړ «هر څوک چه ایمان لری او د خپل ایمان څخه لاس نه وباسی په هم دی کندو کښی دی وغورځاوه شی!» تر دی چه ډیر سری په اور کښی وغورځول شول خو هیڅ یوه هم د خپل ایمان څخه لاس وانه خیست یوه ایمان داره ښځه راوستله شوه چه په تی پوری ئی یو ماشوم وو او ګمان کیده چه ښائی دا د خپل کوچنی (ماشوم) له ویری ځان په اور کښی ونه غورځوی. خو د الله تعالیٰ په امر کوچنی (ماشوم) داسی ورغږ کړ «أمّاه اصبری فإنک علی الحق، مورکی! صبر کړه چه ته په حق باندی ئی!»

إِذْ هُمْ عَلَيْهَا قُعُودٌ ۝٦ وَهُمْ عَلَىٰ مَا يَفْعَلُونَ بِالْمُؤْمِنِينَ شُهُودٌ ۝٧

کله چه دوی په (غاړو) د اور ناست ؤ او دوی په هغه چه کول به ئی په مؤمنانو باندی حاضر ؤ (او پخپلو سترګو ئی کتلی).

**تفسیر :** یعنی باچا له خپلو وزیرانو او مشرانو سره یو ځای د خندقونو په شاؤ خواؤ کښی ناست ؤ. او په ډیره بی رحمی او غټ زړه سره ئی د مؤمنانو د سوځولو ننداری کولی او د دی بدبختانو هیڅ زړه په دوی باندی نه خوږیده.

وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ إِلَّا أَنْ يُؤْمِنُوا بِاللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ ۝٨ الَّذِي
لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ۝٩

او عیب ئی نه لیده له هغو (مسلمانانو) څخه مګر دا چه ایمان لرونکی ؤ په الله ډیر غالب قوی ډیر ستایلی شوی باندی هغه (الله) چه خاص ده لره ده باچائی کامل سلطنت د آسمانونو او د ځمکی (سره له آسمانونو او ځمکی ملکاً خلقاً و عبیداً) او الله په هر شی باندی شاهد دی.

**تفسیر :** یعنی د دی مؤمنانو قصور پرته (علاوه) له دی بل کوم شی نه ؤ چه هغوی به د کفر له ظلمت او تیارو څخه وتل او پر یوه لوی او د هر راز (قسم) ستاینی (صفت) وړ (لائق) الله تعالیٰ باندی به ئی ایمان راوړ چه سلطنت او باچائی ئی پر آسمان او ځمکه او پر هر شی باندی ده او په هر کوچنی (ماشوم) او لوی او ذری ذری باندی یوه او باخبر دی کله چه د الله تعالیٰ داسی بندگان یواځی په دی گناه باندی چه هغوی ولی د یوه وحده لا شریک عبادت کوی په اور کښی سوځوی نو آیا دا گمان کاوه شی چه داسی ظلم او ستم به بی بدل او انتقام پاتی کیږی او قهار الله به داسی ظالمان پخپل سخت قهر او غضب نه اخته کوی؟ حضرت شاه صاحب لیکی «کله چه د الله تعالیٰ قهر نازل شو همغه اور خور شو او هغه باچا ئی سره له وزیرانو او مشرانو او کور کهول وسوځاوه» خو په صحیحه ؤ روایتونو کښی د دی خبری ذکر نشته. والله سبحانه و تعالیٰ اعلم.

---

إِنَّ الَّذِينَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَتُوبُوا فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ عَذَابُ الْحَرِيقِ ﴿١٠﴾

---

بیشکه هغه کسان چه په فتنه کښی غورځولی وی ضرر ئی رسولی وی ایمان لرونکیو سړیو ته او ایمان لرونکیو ښځو ته بیا ئی توبه نه وی ایستلی (او نه وی گرځیدلی له کفره) نو دوی ته دی (په آخرت کښی) عذاب د دوزخ او دی دوی ته عذاب د اور سوځوونکی.

---

**تفسیر :** یعنی په اصحاب‌الاخدود پوری منحصر نه دی هغه سری چه داسی زیار (کوشش) کوی چه مؤمنان د الله تعالیٰ له لاری څخه گرځوی لکه چه د مکی کفار ئی کوی او بیا له دی خپلو ناوړو حرکتونو څخه نه تائب کیږی هغوی ته هم د دوزخ داسی عذاب تیار دی چه په هغه کښی به ډیر زیات تکلیفونه وی او زیات تکلیف به په داسی سوځولو کښی وی چه د دوزخی زړه او وجود پکښی سوځی.

---

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۚ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْكَبِيرُ ﴿١١﴾

بیشکه هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه) شته دوی ته جنتونه چه بهیږی له لاندی د (ونو او مانو د) هغو (څلور قسمه) ویالی دا نجات دی مراد موندل لوی.

**تفسیر** : یعنی د دی ځای له تکلیفونو څخه نه ویریږی وروستنی او لوی بری هغو لره دی چه د هغو په مخ کښی د دی ځای عیش او تکلیف دواړه هیڅ دی.

إِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيدٌ ﴿١٢﴾

بیشکه نیول د رب ستا خامخا ډیر سخت دی.

**تفسیر** : نو ځکه ظالمان او مجرمان نیسی او خورا (ډیر) سختی سزاوی هغوی ته ورکوی.

إِنَّهُ هُوَ يُبْدِئُ وَيُعِيدُ ﴿١٣﴾

بیشکه هم دغه (الله) دی ظاهرروونکی (د بطش خپل په کفارو) اول ځلی او بیا ظاهرروونکی دی (د بطش خپل په کفارو) دوهم ځلی په (اخرت کښی یا) بیشکه هم دغه (الله) دی پیدا کوونکی اول ځلی (له نطفی نه) او بیا ئی راګرځوونکی دی (دوهم ځلی) پس له مرګه.

**تفسیر** : یعنی اول ځلی د دنیا عذاب او دوهم ځلی د اخرت رېړ (تکلیف) (کذا فی الموضح). یا ئی دا مطلب دی چه هغه اول ځلی سړی پیدا کوی او دوهم ځلی وروسته له مړینی به ئی هم هم هغه بیا پیدا کوی نو مجرمان دی نه تیروځی چه هر کله چه ځمونږ په مړینی سره نوم او نښی ورکی شی بیا نو مونږ څرنګه ژوندی کیږو.

وَهُوَ الْغَفُورُ الْوَدُودُ ﴿١٤﴾

او هم دی دی ښه ښښوونکی (د ګنهګارو مؤمنانو) محبت کوونکی (له مؤمنانو سره).

**تفسیر** : یعنی سره د ده د قهاری او کلک نیولو له صفته د هغه د بخشش او د مهربانۍ هم هیڅ اندازه نشته دی د حکم منونکیو بندګانو خطاوی او ګناهونه ښښی او د دوی عیبونه پټوی

او په راز راز (قسم قسم) لطف او کرم او عنایت او شفقت سره ئې پالي.

ذُو الْعَرْشِ الْمَجِيدُ ﴿١٥﴾ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ ﴿١٦﴾

خالق مالک د عرش دی لوی دی (په ذات او صفات خپلو کښې) ډیر ښه کوونکی دی د هر هغه شي چه اراده ئې وفرمائي.

**تفسیر :** یعنی سم له خپل علم او حکمت سره د هر شي کول چه وغواړی ژر تر ژره هغه کوی هیچا لره حق نشته چه د هغه د چاری مخه ونیسی په هر حال بندګانو ته نه ښائی چه د هغه په انعام او اکرام باندی مغرور شي او نه ئې له انتقام څخه بی خوفه او بی پروا اوسی بلکه ښائی تل د هغه د جلال او جمال صفتونه دواړه تر سترګو لاندی ولری او په زړه کښې سره له ویری ورته هیلمن (ارزومند) هم وی او سره له امیده او هیلی او رجاء خوف او ویره هم ورځنی ولری.

هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْجُنُودِ ﴿١٧﴾ فِرْعَوْنَ وَثَمُودَ ﴿١٨﴾

آیا راغلی دی تاته (ای محمده!) خبر د (هغو) لښکرو چه فرعونیان او ثمودیان دی.

**تفسیر :** تر یوه مدت پوری د انعام وروته د هغو فرعونیانو او ثمودیانو په مخ کښې وېرانستل شول او له هری خوا هغوی ته نعمتونه ورورسیدل بیا د هغوی د کفر او طغیان له سببه ډیر سخت کسات او انتقام له هغوی څخه واخیست شو.

بَلِ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي تَكْذِيبٍ ﴿١٩﴾

بلکه هغه کسان چه کافران شوی دی (له قومه د تا) په دروغجنولو کښې دی (د تا عناداً او نه اخلی عبرت له پخوانیو څخه).

**تفسیر :** یعنی کفار له دی خبری څخه څه عبرت او پند نه اخلی او د الله تعالیٰ له عذابه هیڅ نه ویریږی برسیره پر دی دا ګردی (تولی) خبری او پاک قرآن دروغ ګڼی او تل په هم دغو دروغو پسی ګرځی.

وَّاللّٰهُ مِنْ وَّرَآىِٕهِمْ مُّحِيْطٌ ﴿٢٠﴾

او الله په هر لوری د دی احاطه کوونکی دی (په علم او قدرت خپل سره نو تری نشی خلاصیدی هیڅ کله)

**تفسیر :** یعنی له دی دروغ ګڼلو څخه هیڅ یوه ګټه (فائده) هغوی ته نه رسیږی خو د دی دروغ بللو هیداد (جزاء) هرومرو دوی ته رسیږی. دوی د الله تعالیٰ له واک (اختیار) او قبضی څخه هیڅ چیری نشی وتلی. او نه له سزا څخه ئی خپل ځانونه ژغورلی (ساتلی) شی.

بَلْ هُوَ قُرْاٰنٌ مَّجِيْدٌ ﴿٢١﴾

بلکه دا قرآن دی شانداره لوی (لفظاً معناً اعجازاً په تولو کتابونو کښی نه ده داسی لکه چه ګمان کوی کافران چه قرآن سحر شعر یا کهانت دی).

**تفسیر :** یعنی د پاک قرآن دروغ بلل پوره حماقت دی قرآن مجید داسی یو شی نه دی چه د دروغ بللو وړ (لائق) وی یا د څو تنو ناپوهانو او احمقانو په دروغ ګڼلو سره د هغه په لوئی او سترتوب کښی به څه نقصان او لږوالی پیښ شی.

فِيْ لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ ﴿٢٢﴾

لیکلی شوی دی په لوح محفوظ کښی.

**تفسیر :** په داسی یو ځای کښی چه هلته د هیڅ ډول (طریقه) تغیر او تبدیل او لاس وهلو هیله (امید) نشته او له هغه ځایه په دیر حفاظت او اهتمام سره صاحب د وحی ته وررساوه شی لکه چه د (الجن) په دوهمه رکوع کښی داسی یو آیت لولو ﴿ فَاِنَّهٗ يَسْلُكُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ رَصَدًا ﴾ او دلته هم د قدرت له لوری د ده د حفاظت او ساتنی دپاره داسی وسائل او سامان شته چه په هغه کښی هیڅ یو قوت او طاقت هیڅ یوه رخنه (نقصان) او کندو نشی کولی.

**تمت سورة البروج فلله الحمد والمنة**

سورة الطارق مكية وهى سبع عشرة آية وفيها ركوع واحد رقم تلاوتها (٨٦) تسلسلها حسب النزول (٣٦) نزلت بعد سورة «البلد»

د «الطارق» سورت مکی دی (١٧) آیته یوه رکوع لری په تلاوت کښې (٨٦) په نزول کښې (٣٦) سورت دی.

وروسته د «البلد» له سورته نازل شوی دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

وَالسَّمَآءِ وَالطَّارِقِ ﴿١﴾ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الطَّارِقُ ﴿٢﴾ النَّجْمُ الثَّاقِبُ ﴿٣﴾
اِنْ كُلُّ نَفْسٍ لَّمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ ﴿٤﴾ فَلْيَنْظُرِ الْاِنْسَانُ مِمَّ خُلِقَ ﴿٥﴾

قسم دی په آسمان او په راتلونکی د شپې او څه پوه کړی ته چه څه دی تلونکی د شپې ستوری ځلیدونکی دی چه نه دی هیڅ نفس مګر په هغه باندی څارونکی ساتونکی شته. نو ودی ګوری انسان چه (اصلاً) له څه شی څخه پیدا کړی شوی دی.

**تفسیر :** یعنی له انسانانو سره پرښتی اوسیږی چه هغوی له بلاؤ څخه ژغوری (محفوظوی) یا ئی عمل لیکی (موضح القرآن) او په قسم کښې ښائی دی لوری ته اشاره وی هغه څوک چه په آسمان کښې ستوری ساتی نو په څمکه کښې ستاسو د چارو ساتنه هغه ته کوم ګران کار نه دی همغسی چه په آسمان کښې ستوری محفوظ دی او د هغو ښه ښکاریدل په شپه کښې وی هم داسی ګردی (تولی) چاری په اعمالنامو کښې اوس هم محفوظی دی مګر د هغوی ظهور خاص په قیامت کښې کیږی کله چه خبره داسی ده نو انسان لره ښائی چه تل د قیامت په فکر کښې وی که د ده یقین په قیامت باندی نه راځی او هغه مستبعد ګڼی نو ښه غور او فکر دی وکړی چه پخپله دغه انسان له کوم شی څخه پیدا شوی دی (فرمائی الله اعظم برهانه چه).

خُلِقَ مِنْ مَّآءٍ دَافِقٍ ﴿٦﴾

پیدا کړی شوی دی (انسان) له اوبو توپ وهونکیو څخه (په رحم کښې).

**تفسیر :** یعنی له منیو څخه چه توپ وهلی وځی یا له هسی اوبو څخه چه تولی کړی شوی وی

په رحم کښې.

يَخْرُجُ مِنْ بَيْنِ الصُّلْبِ وَالتَّرَآئِبِ ﴿٧﴾

هسې اوبه چه راوځي له منځه د شاؤ (د سړيو) او له هډوکيو د سينو (د ښځو) څخه .

**تفسير :** وائي چه د نارينه ؤ مني د دوی له شاګانو څخه او د ښځو مني د هغو له تترو (سينو) څخه راوځي ځيني عالمان وائي چه شا او تتر له ګرد (تول) بدن څخه کنايه ده يعني مني د نارينه وی که د ښځي د دوی له ګرد (تول) بدن څني پيدا کيږي او بيا په ځغرد (تيزی) تری جلا (جدا) شي. په دی کنايه کښې د «صلب» او «ترائب» تخصيص ښائي د دی لپاره وی چه د منيو د مادی په حصول کښې رئيسه اعضاء (قلب، دماغ، کبد) يو خاص دخل لری چه د دوی له منځه د قلب او کبد تعلق او تلبس له «ترائب» سره زيات دی او د دماغ تعلق د نخاع (حرام مغز) په وسيله له «صلب» سره ښکاره دی والله اعلم.

إِنَّهُ عَلَىٰ رَجْعِهِ لَقَادِرٌ ﴿٨﴾

بيشکه دغه (الله) په بيا بيرته ژوندی ګرځولو د هغه (انسان) خامخا توانا قادر دی.

**تفسير :** يعني تر مريني وروسته مو بيا الله تعالیٰ ژوندی راولي (موضح القرآن) حاصل ئی دا چه له نطفي څخه د انسان جوړول د هغه د دوهم ځلي د بيا ژوندی کولو څخه ډه زيات عجيبه نه ده کله چه دا عجيب امر د هغه له قدرت کيدی شي نو جائز نه دی تر هغه د يوه لږ عجيب څيز له وقوع څخه انکار وکړ شي بلکه خامخا بيا ئی هم پيدا کولی شي.

يَوْمَ تُبْلَى السَّرَآئِرُ ﴿٩﴾

په هغې ورځې کښې چه ښکارولی به شي (پکښې) پټ څيزونه.

**تفسير :** يعني ګردی (تولی) هغه پټي خبری چه د دوی په زړونو کښې وی ښکاريږی او د هيڅ يو جرم اخفاء به ممکنه نه وی.

فَمَا لَهُۥ مِن قُوَّةٍ وَلَا نَاصِرٍ ﴿١٠﴾

نو نه به وی دغه (انسان) ته هیڅ قوت زور (چه ځان پری خلاص کړی له عذابه (او نه هیڅ ناصر مدد کوونکی (چه تری دفع کړی بلا)

تفسیر : په دی وقت کښی به نه مجرم د خپل زور او قوت په مرسته (مدد) خپله مدافعه کولی شی نه به ئی څوک حمایت او ملګرتوب وکړی شی چه دی له سزا څخه وژغوری (بچ کړی).

وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الرَّجْعِ ﴿١١﴾

قسم دی په آسمان خاوند د بیرته ګرځیدلو (چورلیدلو).

تفسیر : یا قسم دی په وریځی باندی چه خاونده د باران ده یا په آسمان او ورښت راورونکی باندی.

وَالْأَرْضِ ذَاتِ الصَّدْعِ ﴿١٢﴾

او (قسم دی) په ځمکه خاونده د چاودلو (د سوری چه تری راوځی اوبه او ګیاه او نور).

تفسیر : یعنی د ځمکی له چاودلو څخه ونی واښه شینکی او نور د باندی راوځی. او جواب د قسم دا دی:

إِنَّهُۥ لَقَوْلٌ فَصْلٌ ﴿١٣﴾ وَمَا هُوَ بِالْهَزْلِ ﴿١٤﴾

چه بیشکه دا قرآن خامخا وینا ده بیلوونکی (د حق او باطل) او نه دی دغه (قرآن) لوبی عبثی خبری مزاح توکی.

تفسیر : یعنی هغه خبری چه قرآن ئی د معاد په نسبت کوی د لوبو او د توکو خبری او د خندلو ور (لائق) اتری نه دی بلکه د حق او د باطل او دروغو او رښتیا پری کړه او فیصله ده او بیشکه دغه یوه رښتیا خبره او یوه پای (آخر) ته رسیدلی معامله ده چه هرومرو (خامخا) راتلونکی ده.

**تنبیه :** له دی مضمون سره د قسم مناسبت داسی دی چه قرآن کریم له آسمان څخه راځی. او په هغه چا کښی چه قابلیت وی هغه ډک او مالامال کوی همغسی چه باران له آسمانه راځی او ځمکه ښه زرغونه او ګټوره کوی. په قیامت کښی هم یو غیبی باران کیږی چه له هغه څخه به مړی ژوندی کیږی لکه چه دلته د باران د اوبو له توئیدلو څخه مړه او ویجاړه وچه کلکه ځمکه زرغونیږی او هر یو شی ئی د ننداری وړ (لائق) ګرځی.

إِنَّهُمْ يَكِيدُونَ كَيْدًا ﴿١٥﴾ وَأَكِيدُ كَيْدًا ﴿١٦﴾ فَمَهِّلِ الْكَافِرِينَ أَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًا ﴿١٧﴾

بیشکه دوی کید چل کوی د چل کولو سره او وربه کړم زه هم د کید خپل سزا (دوی ته) سزا ورکول پس مهلت ورکړه کافرانو ته مهلت ورکړه دوی ته لږ (مدت).

**تفسیر :** یعنی کید، مکر، چل او فریب دروغ او درغلی کوی او د خلقو په زړونو کښی شبهی او شکوک وراچوی او په هر کیدونکی تدبیر سره غواړی چه د حق او حقیقت د ښکاریدلو او خورولو مخه ونیسی خو ځما لطیف تدبیر هم چه هغوی ئی نشی احساسولی په پټه خپل کار کوی چه د هغوی ټول مکر او کید خراب او ویجاړ شی او د هغوی ټول چل او درغلی د هغوی په لوری وروګرځی نو اوس ته پخپله فکر وکړه چه د الله تعالیٰ د تدبیر په مقابل کښی د بل چالاکی او مکاری کار نشی کولی نو خامخا دا خلق پاتی ناکام خائب او خاسر کیږی نو ځکه مناسب دا دی چه تاسی د هغو په سزا ورکولو کښی تلوار ونه کړی. او د دوی له شنیعه او قبیحه حرکاتو څخه خپه نشئ دوی ته سزا ورنه کړی او ښیره مه کوئ بلکه هغوی ته د څو ورځو له مخی تال او مهلت ورکړئ او بیا ګورئ چه د دوی نتیجه څه کیږی. (وکان ذلک قبل الامر بالقتال).

**تمت سورة الطارق بفضل الله تعالیٰ ومنه وکرمه**

سورة الاعلیٰ مکیة وهی تسع عشرة آیة وفیها رکوع واحد رقم تلاوتها (۸۷) تسلسلها حسب النزول (۸)

نزلت بعد سورة «التکویر»

د «الاعلیٰ» سورت مکی دی (۱۹) آیتونه یوه رکوع لری په تلاوت کښی (۸۷) په نزول کښی (۸)

سورت دی وروسته د «التکویر» له سورته نازل شوی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلَى ①

پاکی بیان کړه د نامه د رب خپل چه (له تولو شخه) ډیر لوی او ښه غالب دی.

**تفسیر :** په حدیث کښی راغلی دی «کله چه دا آیت نازل شو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل (اجعلوها فی سجودکم، دا پخپلو سجدو کښی ووایئ!) نو ځکه مونږ او ګرد (تول) مسلمانان پخپلو سجدو کښی «سبحان ربی الاعلیٰ» وایو خدایه شکر».

الَّذِیْ خَلَقَ فَسَوّٰی ②

هغه (رب) چه پیدا کړل (تول اشیاء) نو اجزاء اعضاء ئی برابر او بی نقصانه کړل).

**تفسیر :** یعنی هر هغه څیز چه جوړ کړی ئی دی پوره له حکمت سره دی او ښه ئی جوړ کړی دی د خواصو او صفاتو په اعتبار او د هغو ګتو (فائدو) لامله (له وجی) چه له هغه شی څخه مقصود دی د هغه پیدائش ئی په درجه د کمال سره رسولی دی. او داسی معتدل مزاج ئی ورښلی دی چه په هغه باندی ګرد (تول) په زړه پوری منافع او فوائد مرتب کیدی شی.

وَالَّذِیْ قَدَّرَ فَهَدٰی ③

او هغه (رب) چه اندازه ئی کړل (خیر او شر د هغوی) نو لاره ئی وروښوده (په طریقه د کسب سره).

**تفسیر :** حضرت شاه عبدالقادر رحمة الله علیه لیکی «یعنی اول ئی تقدیر ولیکه بیا ئی سم له هغه سره دنیا ته راوست ګواکی دنیا ته ئی د راتلو لاره وروښوده». حضرت شاه عبدالعزیز رحمة

الله علیه لیکي «د هر سړي دپاره ئې د کمال یوه اندازه ټاکلې (مقرر کړې) ده او بیا ئې هغه ته د هغه د کمال د حاصلولو لاره ورښوولې ده» په دې کښې نوري خبرې هم شته چه مونږ د هغو په لیکلو سره خپلې دا خبرې نه اوږدوو.

وَالَّذِیٓ اَخۡرَجَ الۡمَرۡعٰی ۝ فَجَعَلَهٗ غُثَآءً اَحۡوٰی ۝

او هغه (رب) چه را ایستلې ئې ده تازه ګیا له ځمکې څخه پس وئې ګرځوله هغه (شنه ګیاه) وچه توره.

**تفسیر :** یعني ړومبی تکه شنه واښه او ورشو په ځمکه کښې پیدا کوي بیا ورو ورو هغه وچ او توروي چه له هغو وچو وښو څخه هم حیواناتو ته خوراک ورکاوه کیږي او هم هغوی ته تر دیر مدت پوري ذخیره کاوه شي تر دې چه وچ کښتونه (فصلونه) هم وروسته له ریبلو څخه په کار راځي.

سَنُقۡرِئُكَ فَلَا تَنۡسٰىٓ ۝ اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ؕ

ژر ده چه وبه لولو مونږ (په ژبه د جبریل) په تا باندې (قرآن ای محمده!) بیا به ئې ته نه هیروې مګر هغه چه اراده وفرمائي الله (د هیرولو ئې له تانه په منسوخ کیدلو).

**تفسیر :** یعني لکه چه مونږ پخپل تربیت سره هر څیز په تدریج د هغه د مطلوب کمال ته رسولې دی په تا باندې به هم ورو ورو کامل قرآن لولو او داسې به ئې در په یاد کړو چه د هغه هیڅ یوه برخه در څخه هیره نشي پرته (علاوه) له هغو آیتونو ځنې چه د هغو بالکل هیرول مقصود وي چه دا هم یو راز (قسم) نسخ ده.

اِنَّهٗ يَعۡلَمُ الۡجَهۡرَ وَمَا يَخۡفٰى ۝

بیشکه دغه (الله) ته معلوم دی (هغه څه قول فعل چه دی) ښکاره او هغه څه چه پټ دی (یعني ټول شیان).

**تفسیر :** یعني الله تعالیٰ ته ستاسي پټ استعدادونه او ښکاره اعمال او احوال ټول ښه معلوم دي او سم له هغو سره به له تاسي سره معامله کوي او هم دا شبهه ونه کړه شي چه هغه آیتونه چه یو

ځلی نازل شوی دی نو بیا د هغو منسوخول او هیرول څه معنیٰ لری؟ د هغه په حکمت باندی احاطه کول د الله تعالیٰ کار دی چه په تولو پټو او ښکاره ؤ خبرو باندی پوهیږی هغه ته معلوم دی چه کوم څیز لره ښائی چه تل پاتی وی؟ او کوم یو د دی وړ (لائق) دی چه د یو مخصوص مدت څخه وروسته پورته کړی شی ځکه چه اوس د هغه پاتی کیدل ضروری نه دی.

وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرٰى ﴿٨﴾

او آسانوو د تا دپاره د شریعت آسانی (یا یادول د وحی یا توفیق درکوو تاته دپاره د آسانی لاری د شریعت).

**تفسیر :** یعنی د وحی یاد لرل به آسانیږی او د الله تعالیٰ د معرفت او عبادت او د مملکت او ملت د سیاست ګردی (تولی) چاری به در اسانی کړی شی او ستا د بریالیتوب (کامیابی) له لاری څخه به ګرد (تول) مشکلات لری کړل شی.

فَذَكِّرْ إِنْ نَّفَعَتِ الذِّكْرٰى ﴿٩﴾

پس ذکر پند ورکړه ته (ای محمده!) که فائده رسوی ذکر پند (یا پس پند ورکړه ته ای محمده!) په تحقیق فائده رسوی ذکر پند مؤمنانو ته (یا پس پند ورکړه ته ای محمده!) که فائده رسوی ذکر پند (که فائده نه رسوی).

**تفسیر :** یعنی کله چه الله تعالیٰ پر تاسی باندی داسی انعام وفرمایه نو تاسی هم نورو ته فیض ورسوی. او له خپل کمال څخه نور هم تکمیل کړی.

**تنبیه :** د ﴿ إِنْ نَّفَعَتِ الذِّكْرٰى ﴾ شرط د دی دپاره راوړی شوی دی چه وعظ او تذکیر هغه وقت کیدی شی چه د اوریدونکی له خوا د هغه د قبلولو ګمان وشی او د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د وعظ او تذکیر منصب د هر سړی لپاره نه دی هو تبلیغ او انذار «یعنی د الله تعالیٰ د احکامو تبلیغ او د هغه له عذاب څخه ویرول» په هر سړی باندی لازم دی تر څو چه د الله تعالیٰ په بندګانو حجت قائم وی او د جهل او ناپوهی عذر پاتی نشی. دی ته په عرف تذکیر او وعظ نه وائی بلکه تبلیغ او دعوت وائی ښائی چه ځینو مفسرینو هم له هم دی جهته د دی آیت معنی لا په ښکاره الفاظو سره داسی لیکلی وی چه څو څو ځلی نصیحت وکړه که د یو ځلی پند فائده ونه کړی. او کیږی چه د (ان نفعت الذکری) شرط یواځی د تذکیر د تاکید دپاره وی یعنی که تذکیر چاته فائده ورسوی نو تاته ښائی چه تذکیر وکړی دا خو منلی شوی خبره ده چه په دنیا کښی تذکیر خامخا یو نه بل ته څو څه نفع او ګټه (فائده) رسوی لکه چه الله تعالیٰ فرمایلی

دی ﴿ وَذَكِّرْ فَإِنَّ الذِّكْرَىٰ تَنفَعُ الْمُؤْمِنِينَ ﴾ نو معلق کول د یوه امر په داسی یو شیز باندی چه د هغه وقوع ضروری وی د هغه امر د تاکید موجب شو.

سَيَذَّكَّرُ مَن يَخْشَىٰ ⑩

ژر ده چه پند به واخلی هغه څوک چه ویریږی له الله (ځکه چه دی فکر کوی په دی کښی)

**تفسیر :** په پوهولو باندی خو هغه پوهیږی او له نصیحت څخه هغه ګټه اخیستی شی چه په زړه کښی ئی لږ او ډیره د الله تعالیٰ ویره وی او د خپل پای (آخر) او انجام لږ څه فکر وکړی.

وَيَتَجَنَّبُهَا الْأَشْقَى ⑪ الَّذِي يَصْلَى النَّارَ الْكُبْرَىٰ ⑫

او ډډه کوی له دغه (پنده نصیحته ښه شقی کافر) لوی بدبخت چه نه ئی قبلوی هغه (لوی بدبخت) چه ننوځی به اور لوی ته (د دوزخ په آخرت کښی).

**تفسیر :** یعنی د هغه بدعمل او بدقسمت په برخه چه د دوزخ اور لیکلی دی هغه کله پوهیږی او له الله تعالیٰ او له خپله انجامه کله ویریږی چه د نصیحت په لوری متوجه شی یا د ښو خبرو په پوهیدلو کښی کوشش وکړی.

ثُمَّ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ ⑬

بیا به نه مری په هغه (اور) کښی (چه راحت ومومی) او نه به ښه ژوندی وی (په کښی په ژوندون د راحت سره).

**تفسیر:** یعنی نه مرګ ورته راځی چه د هغه ربړونه (تکلیفونه) پای (آخر) ته ورسوی او نه ئی د هوسائی (آرام) ژوندون په برخه کیږی هو! داسی یو ژوندون به ولری چه د هغه په مقابل کښی به د مرګ غوښتنه کوی له داسی ژوندون څخه مو دی الله تعالیٰ وساتی.

قَدْ أَفْلَحَ مَن تَزَكَّىٰ ⑭

په تحقیق بری موندلی په مراد رسیدلی دی هغه څوک چه پاک شوی دی (په

ایمان سره له معاصیو).

**تفسیر :** یعنی له ظاهری او باطنی حسی او معنوی نجاستونو څخه پاک شی. او خپل قلب او قالب ئی په صحیحه ؤ عقائدو او فاضله ؤ اخلاقو او صالحه ؤ اعمالو او نافعه ؤ چارو سره ښائسته کړی.

وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّىٰ ⑮

او یاد ئی کړ نوم د رب خپل (په تکبیر سره) بیا ئی لمونځ وکړ (چه نښه د اسلام ده).

**تفسیر :** یعنی پاک او صاف شوی د تحریمی په تکبیر کښی ئی د خپل پروردګار نوم واخیست بیا ئی لمونځ وکړ. ځینی اسلاف وائی چه د تزکیی نه مراد له زکوٰة څخه دی چه دلته د هغه مطلب د فطر صدقه ده او له «ذکر اسم ربه» څخه د اختر تکبیرونه مراد دی. او په «فصلیٰ» کښی د اختر د لمانځه ذکر دی یعنی د اختر په ورځ کښی ئی اول صدقة الفطر سرسایه بیا تکبیرونه بیا لمونځ وکړ. ښکاره خو هغه پرومبنی وینا ده.

**تنبیه :** مونږ حنفیانو سم له پرومبنی تفسیر سره له دی آیت څخه دوه مسئلی ایستلی دی. اول دا چه په تکبیر تحریمه کښی خاص د الله اکبر ویل فرض نه دی مطلق د رب داسی نوم ویل کافی دی چه د ده د تعظیم او د لوئی ښوونکی وی او د سری په غرض او احتیاج اړه ونه لری هو! د الله اکبر ویل د صحیحه ؤ احادیثو په بناء سنت یا واجب ګڼلی شوی دی. دوهم دا چه د تحریمی تکبیر لمانځه لره شرط دی رکن نه دی ځکه چه د (فصلیٰ) بالفاء عطف په **«ذکر اسم ربه»** باندی د معطوف او معطوف علیه پر کلی مغایرت دلالت کوی والله اعلم.

بَلْ تُؤْثِرُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا ⑯ وَالْآخِرَةُ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ ⑰

(کفار د مکی مخ ګرځوی لمانځه نه) بلکه تاسی غوره کوئ ژوندون لږ خسیس په آخرت باندی ای منکرانو حال دا چه آخرت خیر غوره دی (له دنیا نه) او (تل تر تله ښه) باقی دی.

**تفسیر :** یعنی دا ښیګڼه (فایده) تاسی ته ای منکرانو څنګه حاصلیږی چه تاسی هیڅ د آخرت فکر نه کوئ بلکه د دنیا ژوندون او د دی ځای عیش، عشرت، هوسائی (آرام) او چرچی د اعتقاد یا د عمل له مخی په آخروی چارو باندی زیاتی بولئ حال دا دی چه دنیا حقیره او

فانی او آخرت په زرهاؤ ځلی له هغی ښخه ښه او پایه دار دی بیا د تعجب ځای دا دی هغه څیز چه د (کم) او (کیف) او نورو له پلوه بهتر دی هغه څنګه پری ښودی شی؟ او چتی (بیکاره) او خرابی چاری ولی غوره کولی کیږی؟.

إِنَّ هَٰذَا لَفِي الصُّحُفِ الْأُولَىٰ ﴿١٨﴾ صُحُفِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَىٰ ﴿١٩﴾

بیشکه دا خبری خامخا په صحیفو ړومبنیو کښی دی چه صحیفی د ابراهیم او (د) موسیٰ دی.

**تفسیر :** یعنی دا مضمون چه له ﴿ قَدْ أَفْلَحَ مَن تَزَكَّىٰ ﴾ ښخه تر ﴿ وَالْآخِرَةُ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ ﴾ پوری دی په پخوانیو کتابونو کښی هم لیکلی شوی دی او هیڅ وقت منسوخ شوی او بدل شوی نه دی نو په دی اعتبار لا تینګ او مؤکد شو.

**تنبیه :** په ځینو ضعیفو روایتونو کښی راغلی دی چه پر ابراهیم علیه السلام لس صحیفی او پر موسیٰ علیه السلام باندی برسیره پر توریت هم لس صحیفی نازلی شوی دی الله تعالیٰ ښه پوهیږی چه دا خبری به تر کوم ځای پوری صحیحی وی.

**تمت سورة الاعلیٰ بفضل الله تعالیٰ ومنه وکرمه**

سورة الغاشية مكية وهی ست و عشرون آية و فيها ركوع واحد رقم تلاوتها (۸۸) تسلسلها حسب النزول (٦٨) نزلت بعد سورة «الذاريات»

د «الغاشية» سورت مکی دی (۲٦) آیته یوه رکوع لری په تلاوت کښی (۸۸) په نزول کښی (٦٨) سورت دی وروسته د «الذاريات» له سورت ښخه نازل شوی دی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْغَاشِيَةِ ﴿١﴾

په تحقیق راغلی دی تاته (ای محمده!) خبر د پټوونکی (د خلقو په سختیو خپلو سره چه قیامت دی).

**تفسیر :** یعنی هغه خبره د اوریدلو وړ (لائق) ده چه پټوونکی د خلقو دی په هیبتونو او په سختیو خپلو کښی.
**تنبیه :** (له غاشیې پټوونکی) څخه مراد قیامت دی چه پر ګردو (تولو) مخلوقاتو باندی چاپیریږی او د هغه په اثر به پر ګردو (تولو) مخلوقاتو باندی محیط وی.

وُجُوْهٌ يَّوْمَىِٕذٍ خَاشِعَةٌ ۝۲ عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ ۝۳

ځینی مخونه به په دغه ورځ (د قیامت) کښی ویریدونکی او ذلیله وی رېړ (تکلیف) ایستونکی رنځ راښکوونکی به وی.

**تفسیر :** یعنی په آخرت کښی به رېړ (تکلیف) ایستونکی د رېړ (تکلیف) ګاللو (برداشت کولو) په سبب ستړی او ستومانیږی ځینی وائی چه د (عاملة ناصبة) څخه د دنیا حال مراد دی یعنی ځومره خلق دی چه په دنیا کښی زیارونه (کوششونه) کوی او رېړونه (تکلیفونه) ګالی (برداشت کوی) تر دی چه ستړی کیږی خو کله چه دا ګرد (تول) رېړونه (تکلیفونه) د حق په لاره کښی نه دی نو ځکه ګرد (تول) ابته (خراب) او بیکاره ځی دوی دلته تکالیف ګالی (برداشت کوی) او هلته هم په مصیبتونو باندی آخته کیږی او «خسرالدنیا والآخرة» هم دی ته وایه شی حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «کفار په دنیا کښی ډیر زیارونه (کوششونه) کوی خو د الله تعالیٰ په دربار کښی هیڅ نه منل کیږی».

تَصْلٰى نَارًا حَامِيَةً ۝۴ تُسْقٰى مِنْ عَيْنٍ اٰنِيَةٍ ۝۵

ننوځی به اور ډیر ګرم ته ورخښل کیږی به پری له چینی ډیری ګرمی څخه (په وقت د غلبې د تندی کښی).

**تفسیر :** یعنی کله چه د دوزخ تودوخی د هغوی په باطن کښی سخته ګرمی پیدا کړی دوی بی اختیاره «تږی یو تږی یو» ناری وهی چه ښائی د اوبو له څښلو څخه به د دوی دا تنده ماته شی دلته به د یوی یشیدونکی چینی له اوبو څخه دوی ته اوبه ورکولی کیږی چه د هغو له څښلو څخه به د دوی شونډی ورتیږی او کولمی به ئی توتی لوېږی او بیا به ژر جوړیږی او هم داسی به تل په عذاب ککړ وی (العیاذ بالله).

لَيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ اِلَّا مِنْ ضَرِيْعٍ ۝۶

نه به وی دوی ته طعام خواړه مګر له اغزی لرونکی ترخی ونی څخه.

تفسیر : ضریع یوه اغزی لرونکی ونه ده په دوزخ کښی چه پخپل تریخوالی کښی له شبرق یا له مصبر څخه زیات بد خونده او مرداره او په ګرمی کښی له اوره توده ده کله چه دوزخیان له لوږی څخه په عذاب شی او «وږی یو! وږی یو!» ناری وهی نو دا (ضریع یا ایلوی یا شیرق او مصبر) دوی ته ورکول کیږی.

لَّا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِي مِن جُوعٍ ۝٧

چه نه به څربوی بدن (د دوزخی هغه ضریع) او نه دفع کوی هیڅ لوږه (له دوی نه هغه ضریع).

تفسیر : له خوړلو څخه یواځی خوند او لذت اخیستل یا د ځان څربول یا د لوږی لری کول یا بل مقصد وی د (ضریع) له خوړلو څخه دا خبری هیڅ نه حاصلیږی د خوند او لذت نشتوالی خو د هغه له نامه څخه ښکاره دی د نورو دوو فائدو نفی تصریحاً په دی آیت کښی ذکر شوه. لنده ئی دا چه هیڅ یو لذیذ او مرغوب طعام او خواړه هغوی هلته نه مومی تر دی ځایه پوری د دوزخیانو د حال بیان ؤ اوس د دی په مقابل کښی الله اکرم شانه واعظم برهانه د جنتیانو ذکر داسی فرمائی،

وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاعِمَةٌ ۝٨ لِّسَعْيِهَا رَاضِيَةٌ ۝٩

ځینی مخونه به په دغی ورځی کښی ښائسته او تازه وی پخپل کوښښ باندی (چه ئی کړی وی په دنیا کښی) راضی خوشاله به وی (په آخرت کښی)

تفسیر : یعنی خوښ به وی چه د دوی زیار (کوشش) په ځای شو او د خپلو ربړو (تکلیفونو) او د زحمتونو ګټه (فائده) ئی په ښه ډول (طریقه) سره بیا مونده.

فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ۝١٠ لَّا تَسْمَعُ فِيهَا لَاغِيَةً ۝١١

په جنت لوړ (اوچت) شانداره کښی به وی. نه به اوری په هغه (جنت) کښی کومه چتی (بیکاره) خبره.

**تفسير :** يعنى په جنت کښې هيڅوک چتي (بيکاره) او اپلتي خبرې نه اورى د کنځلو او د رذالت هيڅ يوه نښه هلته نه ليدله کيږي.

فِيهَا عَيْنٌ جَارِيَةٌ ﴿١٢﴾

په دغه (جنت) کښې چينه ده جارى بهيدونکى.

**تفسير :** يعنى په جنت کښې يوه عجيبه دول (طريقه) چينه ده او ځينو مفسرينو دا «عين» پر جنس باندې حمل کړې ده او وائى چه په جنت کښې ديرې چينې بهيږي.

فِيهَا سُرُرٌ مَّرْفُوعَةٌ ﴿١٣﴾ وَّأَكْوَابٌ مَّوْضُوعَةٌ ﴿١٤﴾

په دغه (جنت) کښې دى تختونه (دپاره د کيناستلو د جنتيانو) لوړ (اوچت) عاليشان او جامونه ايښودلى شوى (په اندازه د ښښونکيو خپلو).

**تفسير :** کله چه وئى غواړى چه وئى ښښى هيڅ ديل او دير به نه پکښې کيږي.

وَّنَمَارِقُ مَصْفُوفَةٌ ﴿١٥﴾

او (په دغه جنت کښې دى) بالښتونه ايښود شوى په درجه ښنګ په ښنګ (جنتيانو ته).

**تفسير :** يعنى په دير نزاکت او لطافت او په ښه قرينه او ترتيب سره به غوړيدلي وى، لوئى ګدوځى (تکيى) او بالښتونه به ځاى په ځاى کښې ايښود شوى وى چه کله به په يوه کينى او کله به په نورو تکيه وهى.

وَّزَرَابِيُّ مَبْثُوثَةٌ ﴿١٦﴾

او (په دغه جنت کښې دى) فرشونه فاخره غوړولى شوى.

**تفسير :** تر ښو هر کله او په هر ځاى کښې چه د جنتيانو زړه غواړى هلته آرام او هوسائى (راحت) او له يوه ځايه د بل ځاى د تګ را تګ او وړلو او راوړلو تکليف ورته نه وى.

أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى الْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ ﴿١٧﴾ وقفة

نو آیا پس نه گوری (منکران په نظر د عبرت سره) اوښ ته چه څرنګه پیدا کړی شوی دی.

**تفسیر :** چه د نورو حیواناتو او بوده ؤ (څاروو) په نسبت د اوښ هیئت او خاصیت دواړه خورا (ډیر) عجیب او غریب دی چه د هغه تفصیل (عزیزی) کښی راغلی دی او د ویلو وړ او لایق دی.

وَإِلَى السَّمَاءِ كَيْفَ رُفِعَتْ ﴿١٨﴾ وقفة

او (آیا نه ګوری منکران) آسمان ته چه څرنګه بلند اوچت کړی شوی دی (بی له ستنو).

**تفسیر :** یعنی آسمان پرته (علاوه) له ښکاره ستنی او پائی او رسۍ او نورو څخه پورته کړی شوی دی

وَإِلَى الْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ ﴿١٩﴾ وقفة

او (آیا نه ګوری منکران) غرونو ته چه څرنګه درولی شوی دی.

**تفسیر :** چه د یوی ذری په اندازه له خپلو ځایونو څخه نه خوځیږی. او دغه غرونه د الله تعالیٰ په قدرت سره له دغومره لویوالی پخپلو ځایونو کښی تینګ ولاړ دی.

وَإِلَى الْأَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ ﴿٢٠﴾

او (آیا نه ګوری منکران) ځمکی ته چه څرنګه غوړولی شوی ده.

**تفسیر :** چه ځمکه د خپل لوی والی په سبب سره د خپل کروی شکل توبه بیا هم مسطحه ښکاری نو ځکه پری هستوګنه اوسیدل آسان دی. دا ګرد (تول) د الله تعالیٰ د قدرت دلیلونه بیان شول یعنی تعجب دی چه سره د لیدلو د دی ګردو (تولو) شیانو بیا هم د الله تعالیٰ په

قدرت او حکیمانه ؤ انتظاماتو باندی منکران نه پوهیږی چه له هغو ګردو (تولو) څخه د هغه قدرت په بعث بعد الموت باندی ثابتیږی او د آخرت عجیب او غریب انتظامات ممکن په نظر راځی د ابن کثیر رحمة الله علیه په وینا د دی شیانو تخصیص ځکه شوی دی چه د عربو خلق زیاتره په بیدیاؤ ځنګلونو کښی ګرځیدل او په دی وقت کښی به زیاتره د هغوی تر سترګو لاندی هم دا څلور شیان ؤ د سورلیٔ اوښ، پاس آسمان، ښکته ځمکه، شاؤ خوا غرونه نو د دی لامله (له وجی) په هم دی علاماتو او نښو باندی د فکر وهلو او جاج کولو ارشاد شوی دی.

فَذَكِّرْ إِنَّمَا أَنتَ مُذَكِّرٌ ﴿٢١﴾ لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ ﴿٢٢﴾

نو ته ئی وپوهوه (پند ورکړه ای محمده ! دوی ته) بیشکه هم دا ته پند ورکوونکی پوهوونکی ویروونکی ئی نه ئی ته پر دوی باندی مسلط کړی شوی (چه په زور ئی مسلمانان کړی).

تفسیر : یعنی کله چه دا خلق سره د واضحه ؤ دلائلو له قیام څخه غور نه کوی نو تاسی د هغوی زیات فکر مه کوی ځکه چه تاسی یواځی د پند ورکولو دپاره لیږلی شوی یئ که دوی نه پوهیږی نو تاسی په هغوی باندی محصل او داروغه تاکلی (مقرر کړی) شوی نه یئ چه په زور او زیادت سره ئی په هغوی باندی ومنئ او د هغوی زړونه په بل لوری واړوی. دا کار د مقلب القلوب دی. **(وکان ذلک قبل الامر بالقتال).**

إِلَّا مَن تَوَلَّىٰ وَكَفَرَ ﴿٢٣﴾ فَيُعَذِّبُهُ اللَّهُ الْعَذَابَ الْأَكْبَرَ ﴿٢٤﴾
إِنَّ إِلَيْنَا إِيَابَهُمْ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُم ﴿٢٦﴾

مګر هغه څوک چه وګرځید (له ایمانه) او کافر شو (په مؤمن به شیانو) نو په عذابوی به ئی الله په عذاب لوی (د آخرت) سره. بیشکه خاص مونږ ته دی بیرته راتګ د دوی (په قیامت کښی) بیا بیشکه څمونږ پر غاړه دی حساب د دوی (نو سم له اعمالو به جزاء مومی).

تفسیر : یعنی هغه کسان چه د الله تعالیٰ له طاعت څخه مخ اړوی او د هغه له آیتونو څخه انکار کوی هغه د آخرت په لوی عذاب او د الله تعالیٰ له سختی سزا څخه ځان نشی ژغورلی (ساتلی) یقیناً هغوی یوه ورځ څمونږ په لوری راتلونکی دی او مونږ به له هغوی څخه د یوی یوی ذری حساب آخلو. لنده دا چه تاسی خپله فریضه ادا کړئ. او د

هغوی مستقبل مونږ ته وسپارئ.

## تمت سورة الغاشية بفضل الله تعالىٰ ومنه وكرمه

سورة الفجر مكية وهى ثلاثون آية وفيها ركوع واحد رقم تلاوتها (۸۹) تسلسلها حسب النزول (۱۰) نزلت بعد سورة «الليل»

د «الفجر» سورت مکی دی (۳۰) آیته یوه رکوع لری په تلاوت کښې (۸۹) په نزول کښې (۱۰) سورت دی وروسته د «الليل» له سورته نازل شوی دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

وَالْفَجْرِ ۝۱ وَلَيَالٍ عَشْرٍ ۝۲ وَّالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ ۝۳ وَالَّيْلِ اِذَا يَسْرِ ۝۴

قسم دی په فجر صباح باندی او په شپو لسو باندی او په جفت باندی او (قسم دی په) طاق باندی او په شپه باندی کله چه ځی راځی توره تیاره کیږی.

**تفسير** : حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه لیکی «د لوی اختر په صباح حج اداء کیږی او لس شپی له هغه ځخه پخوا شپی دی او جفت او طاق د روځی وروستنی لسیز (عشره) ده. او د شپی له تګ ځخه مطلب د پیغمبر صلی الله علیه وسلم معراج دی چه دا ګرد (تول) متبرک اوقات دی نو ځکه ئی په هغوی باندی قسم یاد کړ.

**تنبيه** : ګردو (تولو) مفسرینو د ﴿وَالَّيْلِ اِذَا يَسْرِ﴾ معنی عموماً د شپی تیریدل یا د شپی د تیاری خوریدل اخیستی دی ګواکی د صبا د قسم په مقابل کښی ئی د شپی د راتلو قسم یاد کړ لکه چه د جفت په مقابل کښی ئی د طاق قسم یاد کری دی او د (لیال عشر) ځخه ممکن دی چه مطلق لس شپی مراد وی ځکه چه د هغه افراد او مصادیق هم په تقابل کښی شته. د هری میاشتی په رومبنیو لسو شپو کښی د شپی اوله برخه رنه وی او بیا تیاره شی او د لسو وروستنیو شپو په اوله برخه کښی تیاره وی بیا په آخره شومه کښی رنیږی او د منځینو لسو شپو احوال له دوی دواړو ځخه جلا (جدا) دی ګواکی دی اختلاف او تقابل ته ئی هسی اشاره فرمایلی ده چه هیڅوا لره نه ښائی چه د عیش، هوسائی (راحت)، آرام او د مصیبت رېړ (تکلیف)، تنګی، فراخی او بدی ورځی په مقابل کښی ډاده او مطمئن شی او داسی دی نه ګنی چه اوس پرته

(علاوه) له دی څخه بله کومه پیښه او حالت نه راپیښیږی. ده لره ښائی چه په یاد ئی ولری چه الله تعالیٰ د اضدادو خالق او پیدا کوونکی دی. دی همغسی چه په دنیا کښی د یوه ضد په مقابل کښی بل ضد راولی هم داسی ستاسی حالونه او کیفیتونه هم سم له خپل حکمت او مصلحت سره تل اړوی او در بدلوی ئی لکه هغه واقعی او مضمونونه چه وروسته له دی نه راځی په ګردو (تولو) کښی ئی په هم دی اصولو تنبیه فرمایلی ده.

یوه بله تنبیه د دی آیت په تفسیر کښی دوه مرفوع حدیثونه راغلی دی. د جابر رضی الله عنه او د عمران بن حصین، حافظ ابن کثیر رحمة الله علیه د یوه په نسبت لیکی «**وهذا اسناد رجاله لا باس بهم وعندی ان المتن فی رفعه نکارة**» او د بل په نسبت وائی «**وعندی ان وقفه علی عمران بن حصین اشبه والله اعلم**».

هَلْ فِي ذَٰلِكَ قَسَمٌ لِّذِي حِجْرٍ ﴿٥﴾

آیا شته په دی قسمونو کښی لوی قسم پوره خاوند د عقل ته (چه اعتبار پری وکړی؟ هو! شته!)

**تفسیر :** یعنی دا قسمونه معمولی نه دی ډیر معتبر او مهتم بالشان دی پوهان پوهیږی چه د کلام د تاکید دپاره په دی کښی یو ځان ته عظمت او خاص وقعت مونده کیږی. او محذوف جواب د قسم دا دی یعنی خامخا به په عذاب کړی شئ تاسو ای منکرانو! وروسته له دی نه الله اجل واعظم برهانه د ځینو منکرینو د تعذیب ذکر فرمائی چه

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ ﴿٦﴾ إِرَمَ

آیا نه وینی نه ئی خبر ته (ای محمده!) چه څه کړی دی رب ستا (له قبیلی د اول) د عادیانو سره چه ارم ؤ.

**تفسیر :** «عاد» د داسی یوه سړی نوم دی چه د هغه قوم د ده په نامه باندی یادیږی. د ده په نیکونو کښی یو سړی (ارم) نومیده د ده په لوری له نسبت کولو څخه ښائی داسی اشاره وی چه دلته له (عاد) څخه اول (عاد) مراد دی او دوهم (عاد) نه دی. ځینی وائی چه د عاد د قوم شاهی کورنی ته «ارم» ویل کیدل والله اعلم.

ذَاتِ الْعِمَادِ ﴿٧﴾

چه خاوندان د قوت قامتونو لویو ؤ (یا خاوندان د لویو ستونو ؤ)

**تفسیر** : یعني ستني ئې ودرولې او لوی لوی عمارتونه ئې جوړ کړل یا ئې دا مطلب دی چه ډیر ځلې په سیر او سیاحت مشغول ؤ او په لویو وځکیکو او ستنو باندې ئې کیږدې یا خیمې درولې، د ځینو په نزد له «ذات العماد» ځخه مراد د هغوی اوږده قدمونه، لوی قدونه او جګې ونې او نور لوړ (اوچت) شیان دي چه په تشبیه سره ویلې شوي دي او ځینې وائې چه ارم د یوه ښار نوم دی چه پکښې لوئې لوئې مانې او لوړ لوړ (اوچت اوچت) عمارات ؤ والله اعلم.

الَّتِيْ لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِي الْبِلَادِ ﴿٨﴾

هسې (قبیله) چه نه وه پیدا کړې شوې مثل د هغې (په قوت قدرت کښې) په تولو ښارونو کښې.

**تفسیر** : یعني په هغه وقت کښې د هغه قوم غوندې بل کوم قوم هسې مضبوط او طاقتور نه ؤ یا دا چه د هغوی عمارتونه بې ځارې او مانې ئې بیمثالې وې.

وَثَمُوْدَ الَّذِيْنَ جَابُوا الصَّخْرَ بِالْوَادِ ﴿٩﴾

او (څه کړې ؤ رب د تا له) ثمودیانو هغو سره چه کنستلې غوځې کړې ئې وې لوئې تیږې (ګټې) په کنده کښې.

**تفسیر** : «وادي القرىٰ» د هغه ځای نوم دی چه هلته تیږې (ګټې) توږلې کیدې او بیا ئې له هغو ځخه ډیرې محفوظې او مضبوطې مانې جوړولې.

وَفِرْعَوْنَ ذِي الْأَوْتَادِ ﴿١٠﴾

او (څه کړې ؤ رب د تا له) فرعون سره چه خاوند د (ډیرو لښکرو) میخونو ؤ.

**تفسیر** : یعني لوی لښکر لرونکی چه د هغه د فوجي ضروریاتو لپاره به ډیر زیات میخونه په کار کیدل یا دا چه خلقو ته به ئې په میخونو سره سزا ورکوله.

الَّذِيْنَ طَغَوْا فِي الْبِلَادِ ﴿۱۱﴾ فَاَكْثَرُوْا فِيْهَا الْفَسَادَ ﴿۱۲﴾
فَصَبَّ عَلَيْهِمْ رَبُّكَ سَوْطَ عَذَابٍ ﴿۱۳﴾

هسې (سړي ؤ دوی ګرد (تول)) چه سرکشي ئې کړې وه په ښارونو کښې بيا ئې ډير کړي ؤ په هغو (ښارونو) کښې فساد ورانی نو نازله کړه پر دوی باندې رب ستا (قمچينه) متروکه د عذاب.

**تفسير :** يعني هغه باغي قومونه د عيش، دولت، زور او قوت په نشو کښې مست شوي په ملکونو کښې ئې ښه شور ماشور، جنګ جنجال فتنه فساد جوړ کړ، زيات شرارتونه ئې وکړل، او داسې سرونه ئې وغړول چه لکه د هغوی په سر باندې هيڅوک حاکم نه دی او تل به په هم دی حال پاتې کيږي او هيڅ کله به د دې ظلم او شرارت جواب ويلو ته نه اړيږي (مجبوريږي) . وروسته له دې نه چه د هغوی د کفر، تکبر، جور، ستم کندول ډک شو او مهلت او د تال مدت ئې پوره شو ناڅاپه قهار الله د خپل عذاب قمچينې او متروکې پرې وورولې او د هغوی ګرد (تول) قوت او لويي ئې له خاورو سره برابر کړې او د دوی هغه ګرد (تول) سازوسامان يو هم په کار نشو.

اِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ ﴿۱۴﴾

بيشکه رب ستا په ځای د انتظار کښې دی (اعمالو د دوی لره چه سم د دوی له عملونو سره جزاء هغوی ته ورکړي).

**تفسير :** يعني لکه چه يو سړی په پټونې (کمين) کښې پټ ناست او د تلونکيو او راتلونکيو او نورو شيانو او پيښو حال او احوال ځان ته څرګندوي (ښکاره کوي) او بيا په تاکلي (مقرر کړي) وقت کښې سم له هغو معلوماتو له دوی سره معامله او کار کوي هم داسې وپوهيږئ چه الله تعالیٰ هم د ګردو (تولو) بندګانو له سترګو څخه په پته ځمونږ او د نورو لوی او وړوکی اعمال او احوال ګوري او هيڅ يو حرکت او سکون له هغه څخه نه پټيږي. هو! په سزا ورکولو کښې تعجيل او تلوار نه فرمائي نو غافل بندګان ئې داسې ګڼي چه پس هيڅوک ځمونږ ليدونکی پوښتيدونکی نه دی څه چه مو زړه غواړي ښائي هغه سره وکړو حال دا دی چه په تاکلي (مقرر کړي) وقت کښې د هغوی دا ګردې (تولې) چارې د هغوی په غاړو کښې ورلويږي او د هرې يوې هغې چارې په مقابل کښې خپله جزا ويني چه له شروع څخه تر اوسه پورې تر کتنې لاندې

وه نو دلته دا خبره لا څرګندیږی (ښکاره کیږی) چه دا ګرد (تول) مهلت او تال د بندګانو د امتحان او ازموینی لپاره ؤ چه آیا دوی خپلو چارو ته ګوری او لوئی ورځی ته څه ذخیره کوی که په هم دا ظاهری او عارضی حالت باندی مغروریږی او خپل پای (آخر) ته نه ګوری؟.

فَأَمَّا الْإِنسَانُ إِذَا مَا ابْتَلَاهُ رَبُّهُ فَأَكْرَمَهُ وَنَعَّمَهُ فَيَقُولُ رَبِّي أَكْرَمَنِ ﴿١٥﴾

پس هر څه انسان بنی آدم کله چه وازمویو په دی (په راحت سره) رب د ده پس عزت ورکړ ده ته او نعمت ورکړ ده ته نو وائی رب ځما عزت راکړه ماته.

**تفسیر :** یعنی زه د هم دی خبری وړ (لائق) وم نو ځکه ئی عزت راکړ.

وَأَمَّا إِذَا مَا ابْتَلَاهُ فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهُ فَيَقُولُ رَبِّي أَهَانَنِ ﴿١٦﴾

او کله چه (الله) وازمویه دی (په زحمت سره) پس تنګ کړ پر ده باندی رزق روزی د ده نو وائی رب ځما سپک کړم زه.

**تفسیر :** یعنی ځما هیڅ قدر ئی ونه کړ. لنده ئی دا چه د هغوی سترګی دنیوی ژوندون او حاضره حالت ته دی او یواځی د دنیا هم دا موجوده راحت او تکلیف د خپل عزت او ذلت معیار ګڼی او په دی نه پوهیږی چه په هم دی دواړو حالتونو کښی د هغه امتحان او ازموینه مقصد ده. نعمت درکوی تر څو وګوری چه تاسی ئی شکر وباسئ؟ او رېړ (تکلیف) درپیښوی چه آیا تاسی خپل صبر او رضاء پکښی ښکاره کولی شئ؟ نه د دی ځای دغه عارضی عیش او آرامی د پاک پروردګار په دربار کښی د مقبولیت او د معززتوب دلیل کیدی شی او نه تنګی، سختی او رېړ (تکلیف) د هغه د مردودیت علامه ګڼله شی خو انسان پر خپلو اعمالو، افعالو باندی کتنه نه کوی او د خپلی بی عقلی یا بی حیائی له سببه پخپل رب باندی الزام لګوی. حاصل ئی دا دی چه شکر نه کوی انسان په راحت او نه صبر کوی په زحمت او وینی عزت په کثرت د دولت سره او وینی ذلت په قلت د ثروت سره نو الله اکرم شانه واعظم برهانه داسی فرمائی.

كَلَّا ۖ بَل لَّا تُكْرِمُونَ الْيَتِيمَ ﴿١٧﴾

داسی دی نه وائی بلکه تاسی اکرام احسان نه کوئ پر یتیم پلار مړی باندی.

**تفسیر** : یعنی د الله جل جلاله په دربار کښی به ستاسی څنګه عزت وی؟ چه تاسی د بیکسانو او یتیمانو د زړه ساتنه او عزت نه کوئ یعنی نه دی دا عزت او ذلت په ډیروالی او لږوالی د مال سره ځکه چه اکرام په طاعت او اهانت په معصیت سره دی بلکه فعل ستاسی ډیر قبیح دی له قول ستاسو نه ځکه چه اکرام درسره کړی دی الله په غناء سره، او تاسو نه کوئ احسان له یتیمانو سره.

وَلَا تَحَاضُّونَ عَلَىٰ طَعَامِ الْمِسْكِينِ ﴿١٨﴾

او نه تیزوئ تاسی یو بل په طعام (خواړه ورکولو د محتاجانو) د مسکینانو.

**تفسیر** : یعنی له خپل مال او شتو څخه د مسکینانو لاس نیوی چیری نورو ته هم داسی یو شی نه وائی چه د ده په ویلو او تیزولو سره هغوی له وږی او بی وځلی سره امداد او معاونت او مرسته (مدد) وکړی.

وَتَأْكُلُونَ التُّرَاثَ أَكْلًا لَّمًّا ﴿١٩﴾

او خورئ تاسی مال د میراث په خوړلو تولو ډیرو سره.

**تفسیر** : یعنی د مړی په پنګه (مال) او میراث اخیستلو کښی د حلال او حرام او حق او باطل څه تمیز نشته څه ئی چه په لاس ورشی خوری ئی او پخپل دغه عمل سره دا راښیئ که د مسکینانو حقوق تلف کیږی تلف دی شی.

وَتُحِبُّونَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا ﴿٢٠﴾

او مینه کوئ تاسی له مال سره په مینی ډیری سره.

**تفسیر** : یعنی رښتیا خبره دا ده چه ستاسی زړونه د مال د حرص او محبت سره ډک دی او بس هم دا غواړئ چه په څه دول (طریقه) مو مال په لاس راشی او یو پول(پیسه) مو هم په یوه ښه کار کښی له لاسه ونه وځی که مخ کښی هر څه راپیښیږی را پیښ دی شی. او له مال او دولت

سره دومره مینه او محبت چه هغه د خپل مقصود کعبه وګرځوی او د اسلامیت په لاره کښې ئې خرڅ نه کړئ دا خو یوائحې د کافرانو دود (رواج) او دستور دی.

كَلَّآ إِذَا دُكَّتِ ٱلۡأَرۡضُ دَكّٗا دَكّٗا ﴿٢١﴾

نه ده داسې او مه کوئ (دغسې بد کارونه) کله چه وټکوله ماته شي ځمکه په ټکولو ماتولو سختو سره.

**تفسير :** ګردې غونډې او غرونه به واړه واړه شي ځمکه به بالکل صافه او هوار میدان شي.

وَجَآءَ رَبُّكَ

او راشي (نښې د قدرت د) رب ستا.

**تفسير :** یعنی رابه شي رب ستا د خپل قهر په تجلی سره هغسې چه د هغه له شان سره ښائی او وړ (لائق) وی.

وَٱلۡمَلَكُ صَفّٗا صَفّٗا ﴿٢٢﴾

او راشي پرښتې صف صف (قطار قطار چاپیریدونکې پر انسانانو او پیریانو باندې).

**تفسير :** یعنی د محشر په میدان کښې. یا راځي هلته انتظاماتو لره پوړ په پوړ او صف صف.

وَجِاْيٓءَ يَوۡمَئِذِۭ بِجَهَنَّمَۚ

او رابه وست شي په هغې ورځې کښې دوزخ.

**تفسير :** یعنی په لکونو پرښتې به هغه له خپله ځایه ځخه په راښکودلو سره د محشریانو په مخ کښې راحاضر کړی.

يَوْمَئِذٍ يَّتَذَكَّرُ الْاِنْسَانُ وَاَنّٰى لَهُ الذِّكْرٰى ﴿۲۳﴾

په دغې ورځې كښې به پند واخلي ياد كړي انسان (خپل افراط) او څه ګټه فائده به نه وررسوى ده ته په دغه وقت كښې پند اخيستل (بلكه هيڅ فائده نه رسوى).

**تفسير** : يعني هلته به وپوهيږى چه په سختى غلطي او غفلت كښې وم مګر هغه پوهيدل به څه په كار ورشي؟ ځكه چه د پوهيدلو او سنجولو (فكر كولو) وقت به له لاس څخه وتلى وى هغه چارى چه په دارالعمل كښې كيدى په دار الجزاء كښې كله كيدى شي.

يَقُوْلُ يٰلَيْتَنِيْ قَدَّمْتُ لِحَيَاتِيْ ﴿۲۴﴾

وائي څنګه به ښه و ما لره كه څه مي مخكښې ليږلي وى دپاره د (دى) ژوند (د آخرت) خپل (يا پخپل ژوندانه كښې).

**تفسير** : يعني افسوس د دنيا په ژوندون كښې مي څه نيكى نه ده كړى چه هغه له ما څخه په مخكښې دلته رارسيدلي وى او اوس به مي په دغه آخروى ژوندون كښې په كار راتلى هم داسى تش لاس را رهى (روان) شوى يم كاشكى د حسناتو كومه ذخيره مي له مخه ليږلي وى چه دلته ځما پنګه او ذخيره ګرځيدلي او په كار به مي راتلي!.

فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُعَذِّبُ عَذَابَهٗۤ اَحَدٌ ﴿۲۵﴾ وَّلَا يُوْثِقُ وَثَاقَهٗۤ اَحَدٌ ﴿۲۶﴾

نو په دغې ورځې كښې به نه په عذابوى الله (په مثل) د عذاب د دغه (الله) هيڅوک او نه به قيدول كوى (په مثل) د قيدولو د دغه (الله) هيڅوک.

**تفسير** : يعني الله تعالىٰ به په دغې ورځې كښې مجرمانو ته داسى سختى سزاوى وركوى او په داسى سختى بندى خانى كښې به اچول كيږى چه د هغې ښارى او مثال د بل مجرم په حق كښې متصور نه دى. حضرت شاه عبد العزيز رحمة الله عليه ليكى «هغه ورځ به نه وهل كيږى د هغه د وهلو په څير بل څوک نه اور نه د دوزخ د اور مؤكل او نه منكور (مار) او نه لرم چه په دوزخ كښې اوسيږى ځكه د هغوى وهل او درد رسول جسمانى عذاب دى او د حق سبحانه تعالىٰ عذاب به داسى وى چه د مجرم روح به په حسرت او ندامت كښې اخته كوى چه روحانى عذاب دى او ښكاره ده چه روحانى عذاب له جسمانى عذاب سره هيڅ يو نسبت نه لرى او هم نه تړى د هغه د تړلو په شان بل څوک ځكه چه دوزخ ښارونكى كه څه هم د دوزخيانو په غاړو كښې د اوسپنى غاړكى اچوى او په كلكو ځنځيرونو ئې تړى او د دوزخ ورونه تړى او برسيره پرى

سرپوښونه پردی خو د دوی عقل او خیال نشی بند ساتلی او د عقل او خیال عادت دی چه تل ډیرو خبرو ته التفات کوی او د هغوی په منځ کښې ځینی خبری د نورو خبرو حجاب کیږی نو ځکه د بندیتوب او تنگی په منځ کښی د انسان عقل او خیال ته راز راز (قسم قسم) وسعت او فراختیا حاصلیږی پرته (علاوه) له هغه سری څخه چه الله تعالیٰ د هغه فکر او خیال د دی خوا او هغی خوا له تللو څخه وساتی او بالکل درد، رېږ (تکلیف) او اندیښنو ته متوجه شی نو دا دول (طریقه) روحی قید له بدنی قید څخه په زرهاؤ ځلی سخت دی هم دا ده چه د مجنون په شان سړیو او سودائیانو ته په ډیرو باغونو او گلانو او خورا (دیر) ښو ننداړو کښی د زړه د خپگان او د ویری او د وهم او خیال د اندیښنو د پیدا کیدلو په سبب هیڅ خوند او لطف نه حاصلیږی او هغه ارت او وسیع باغ او د ننداری وړ (لائق) شیان د دوی په نظر کښی تنگ راځی او تول د کتلو وړ (لائق) شیان د دوی د ویر ژړا او انگولا اسباب ورغوندوی.

يَٰٓأَيَّتُهَا ٱلنَّفْسُ ٱلْمُطْمَئِنَّةُ ﴿٢٧﴾ ٱرْجِعِىٓ إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً ﴿٢٨﴾
فَٱدْخُلِى فِى عِبَٰدِى ﴿٢٩﴾ وَٱدْخُلِى جَنَّتِى ﴿٣٠﴾

ای نفسه آرام نیوونکیه (په ذکر ځما شاکر په نعمت ځما صابر په زحمت ځما) وگرځه (له دنیا نه) په طرف د رب خپل حال دا چه راضی خوښ به ئی ته (له الله څخه او الله) راضی خوښ (به وی له تا څخه) بیا ننوځه په (نیکانو) بندگانو ځما کښی او ننوځه په جنت ځما کښی (سره له نورو مقربانو).

**تفسیر** : اول د مجرمانو او ظالمانو حال بیان شو اوس د هغه په مقابل کښی د هغوی خلقو انجام ښودل کیږی چه د هغوی زړونه د الله تعالیٰ د یادولو څخه آرام خوند او راحت په برخه کیږی هغوی ته به په حشر کښی ویل کیږی آ راحت نیوونکیه نفسه! په الله تعالیٰ باندی، په هغه حقیقی محبوب باندی چه تا خپل زړه ترلی و اوس نو له هر راز (قسم) جگړو او اندیښنو څخه گوښه (بیل) اوسه! او تل په خوښی او هوسائی (آرام) سره خپل ژوند تیروه! او هغه نژدی ځای ته ورشه چه خاصو بندگانو ته تاکلی (مقرر کری) شوی دی او ځما د مخصوصو بندگانو په ډله کښی ځان گډ او داخل کړه. او په عالیشان جنت کښی هستوگنه کړه! له ځینو روایتونو څخه دا ښکاری چه مؤمنانو ته د ځنکدن په وقت کښی هم دا زیری اورواوه کیږی بلکه د عارفانو تجربه راښیی چه د دی دنیا په ژوندون کښی هم داسی مطمئنه نفوس له دی زیری څخه پوره خوند اخلی «**اللهم انا نسألک نفساً بک مطمئنة تؤمن بلقائک و ترضی بقضائک و تقنع بعطائک**».

**تنبیه** : د مطمئنه نفس د اماره نفس، د لوامه نفس تحقیق دی د القیامة د سورت په شروع کښی وکتل شی

**تمت سورة الفجر بفضل الله تعالیٰ ومنه**

سورة البلد مكية وهي عشرون آية و فيها ركوع واحد رقم تلاوتها (۹۰) تسلسلها حسب النزول (۳۵) نزلت بعد سورة «قٓ».

د «البلد» سورت مکی دی شل آیته یوه رکوع لری په تلاوت کښې (۹۰) په نزول کښې (۳۵) سورت دی وروسته د «قٓ» له سورته نازل شوی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

لَآ اُقْسِمُ بِهٰذَا الْبَلَدِ ۝۱ وَاَنْتَ حِلٌّۢ بِهٰذَا الْبَلَدِ ۝۲

قسم خورم په دی بلد ښار باندی چه (مکه ده) حال دا چه خاص ته به خلاص شی (په تا به څه قید ممانعت نه وی) په دی ښار کښې (چه هر څوک وژنی یا ئی پریږدی په یو ساعت د ورځی کښې).

تفسیر : په مکی معظمی کښې هر سری له جنګ کولو څخه ممنوع دی خو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو واری د مکی په فتحی کښې دا ممانعت پاتی نشو او هر چا چه له هغوی سره جنګ کړو د هغه وژل به روا کیده تر دی چه ځینی لوی مجرمان د کعبی شریفی د دیوالونو تر څنګ هم ووژل شول نو وروسته له دی ورځی څخه بیا همغه ممانعت تر نن پوری بیرته قائم شو هر کله چه په دی آیت کښې په مکی باندی قسم یاد شوی دی او هغو شدائدو او سختیو ته اشاره شوی ده چه هغه ډیر ځلی پر انسانانو باندی راتلونکی دی او د هغی زمانی خورا (ډیر) لوی سری په دغه ښار کښې په ډیره زړه خوږونکی سختی اخته و او خورا (ډیر) زیات ربړونه (تکلیفونه) ئی ګالل (برداشت کول) نو ځکه ئی په منځ کښې د معترضی جملی په ډول (طریقه) چه ﴿ وَاَنْتَ حِلٌّۢ بِهٰذَا الْبَلَدِ ﴾ ده تسلی ورکړه چه نن ستاسی احترام په دی ښار کښې د ناپوهانو له لوری نه کیږی یو وقت به راشی چه تاسی به په دی ښار کښې د بریالیتوب (کامیابی) په ډول (طریقه) ننوځئ او د دی مقدس ځای د ابدی تطهیر او تقدیس دپاره به د لویو مجرمانو په سزا ورکولو کښې تاسی ته اجازت وی دا پخوا ویل د هجرت په اتم کال کښې د الله تعالیٰ په فضل سره پوره شول.

تنبیه : ځینو د ﴿ وَاَنْتَ حِلٌّۢ بِهٰذَا الْبَلَدِ ﴾ معنی **وانت نازله** اخیستی ده یعنی زه قسم خورم په هغه ښار باندی په هغه حال چه ته پکښې پیدا شوی ئی او په کښې هستوګنه لری.

وَوَالِدٍ وَّمَا وَلَدَ ﴿٣﴾

او قسم دی په پلار او په هغه باندی چه له ده ځخه څیریدلی دی.

**تفسیر :** یعنی آدم او بنی آدم و قیل غیر ذلک. او جواب د قسم دا دی

لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي كَبَدٍ ﴿٤﴾

چه خامخا په تحقیق پیدا کړی دی مونږ انسان بنی آدم په رنځ او مشقت کښې

**تفسیر :** یعنی آدم علیه السلام له ابتداء ځخه تر انتهاء پوری په رنځ او مشقت اخته دی. او راز راز (قسم قسم) سختی په ده باندی تیریږی. هیڅ داسی کیدونکی نه دی چه یو سړی پخپل ټول عمر کښې د ځه مدت له مخی د دنیا د ګردو (ټولو) پیښو او چارو، محنتونو، رنځونو ځخه فارغ او آزاد وی او په پوره آزادئ او بی فکرئ سره ژوندون کوی په رښتیا سره د انسان اصلی فطرت داسی واقع شوی دی چه دی خپل ځان له دغو سختیو او جنجالونو ځخه نه شی ژغورلی (ساتلی). د آدم علیه السلام او بنی آدم د ژوندون د احوالاتو له کتنی ځخه دا خبره ښه جوته کیږی. د مکی معظمی په غرنی ملک کښې ژوندون په تیره بیا په هغه وقت کښې چه هلته افضل الخلائق حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د خورا (ډیر) سخت جور او جفاء او ظلم او ستم نښه او هدف وه د ﴿ لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي كَبَدٍ ﴾ یو لوی شهادت دی.

أَيَحْسَبُ أَن لَّن يَقْدِرَ عَلَيْهِ أَحَدٌ ﴿٥﴾

آیا ګمان کوی (کافر انسان) چه بیشکه له سره به قادر نشی په ده باندی هیڅوک (چه بدل تری واخلی).

**تفسیر :** یعنی انسان چه د هغو سختیو او مشقتونو په لاری تیریږی نو د هغه اقتضاء خو داسی ده چی په ده کښې عجز او درماندګی پیدا شی او خپل ځان د قضا د حکم ترلی وګڼی او د احکامو مطیع او د رضا تابع او په قضاء صابر وی او هر کله خپل احتیاج او افتقار تر نظر لاندی ونیسی! خو انسان دا خبره بالکل هیره کړی ده نو آیا انسان داسی ګڼی چه داسی یوه هستی شته چه انسان د هغی تر حکم لاندی وی او دوی ته د دی سرکشی او سرغړولو سزا ورکړی شی؟. بلکه الله اعظم شانه واعظم برهانه دی!

يَقُولُ أَهْلَكْتُ مَالًا لُّبَدًا ۞

وائی (له فخره) ما خرڅ کړی و مال خورا ډیر (په دښمنی د محمد کښې).

تفسیر : یعنی د الله تعالیٰ په معصیت د رسول الله صلی الله علیه وسلم په عداوت د اسلام په مخالفت کښې له حده تیر مال خرڅ کوی. او په داسی خرڅ کولو ځان باتور او ځلمی هم گڼی. او په ډیر فخر سره وائی چه ما په فلانی پیښی کښې دومره ډیر مال لگاؤ. او دغومره شته می خرڅ کړل. آیا بل څوک به ځما په مقابل کښې داسی خرڅ وکړی شي؟ خو مخ کښې ورته ښکاریږی چه دا تول لگښت خرڅ ئی ابته (خراب) او عبث گرځی. او خپل مال او دولت ئی د ځان بلاء کیږی.

أَيَحْسَبُ أَن لَّمْ يَرَهُۥٓ أَحَدٌ ۞

آیا گمان کوی دی چه بیشکه نه دی لیدلی دی هیچا (په وقت د خرڅ د مال کښې).

تفسیر : یعنی الله تعالیٰ دا گرد (تول) شیان گوری او وینی او هومره مال په هر نیت سره په هر ځای او په هر څیز باندی چه ولگاوه شي هغه گرد (تول) ورته ښه معلوم دی نو د دروغو او ریا څخه هیچا ته هیڅ یوه گټه (فائده) نه رسیږی.

أَلَمْ نَجْعَل لَّهُۥ عَيْنَيْنِ ۞

آیا نه دی ورکړی مونږ ده ته دوه سترگی (چه پری وگوری بلکه ورکړی مونږ ده ته دوه سترگی).

تفسیر : یعنی هغه چاته چه ما د لیدلو سترگی ورکړی دی آیا هغه پخپله نه گوری؟ یقیناً د هغه الله تعالیٰ چه گردو (تولو) ته ئی سترگی، عقل او بصیرت او پوه وربخښلی دی د بینائی قوت او قدرت او پوه له گردو (تولو) څخه لوړه (اوچته) او ستره ده.

وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ ۞

او (آیا نه ده ورکړی مونږ ده ته یوه) ژبه او دوه شوندی( چه خبری او

خوراک او نور پری کوی بلکه ورکړی دی مونږ ده ته یوه ژبه او دوه شونډی)

**تفسیر :** چه له هغه څخه په خبرو اترو او خوړلو او څښلو مرستی (مدد) اخستی کیږی.

وَهَدَيْنَٰهُ ٱلنَّجْدَيْنِ ﴿١٠﴾

او ښوولی دی مونږ ده ته دوه لاری (د خیر او شر چه پری جنت یا دوزخ ته ځی).

**تفسیر :** یعنی د ښو او بدو دواړه لاری ئی ورښوولی دی تر څو چه ځان له بدی لاری څخه وژغوری (وساتی) او په ښه لاره تګ وکړی او د دی خبری ښوونه په اجمالی دول (طریقه) سره د عقل او فطرت په وسیله شوی ده او تفصیل ئی د پیغمبرانو او مرسلانو په واسطه او د هغوی په ژبه شوی دی.

**تنبیه :** ځینو له «نجدین» څخه د ښځو دوه تی مراد اخیستی دی یعنی تی رودونکیو ماشومانو او ووړکو ته ئی د تی رودلو او د خوړو پیدا کولو لاره ورښوولی ده چه پس له پیدا کیدلو تری شوده څښی او خوری.

فَلَا ٱقْتَحَمَ ٱلْعَقَبَةَ ﴿١١﴾

نو ربړ (تکلیف) ئی ونه ایست په ختلو د غونډی کښی (او سختی ئی تیره نه کړه په مخالفت د نفس او هوا کښی).

**تفسیر :** ځینو د عقبه معنی د تیریدلو سخت ځای او غونډی، اخیستی ده یعنی سره له دومره زیاتو انعاماتو او د هدایت د اسبابو له موجودیته دوی دا توفیق ونه موند چه د دین په صعب‌المرور غونډی وخیژی او سختی او ربړ(تکلیف) ئی پر ځان واخلی او د مکارم الاخلاق مدارج طی کړی او د فوز او فلاح لوړو (اوچتو) ځایونو ته ځان ورسوی.

**تنبیه :** دینی کارونه ئی په غونډی سره ځکه تشبیه کړی دی چه د نفس او هوا د مخالفت په نسبت د هغه پای (آخر) ته رسول سری ته دیر شاق وی او ربړ (تکلیف) پیښوی.

وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلْعَقَبَةُ ﴿١٢﴾ فَكُّ رَقَبَةٍ ﴿١٣﴾

او څه شی پوه کړی ئی ته چه څه دی ختل د غونډی. (عقبه) خلاصول د غاړی دی.

**تفسير** : يعني (عقبه) د مريي آزادول يا د پور (قرض) وړی غاړه له پوره قرضه خلاصول دي.

أَوۡ إِطۡعَٰمٞ فِي يَوۡمٖ ذِي مَسۡغَبَةٖ ⑭

يا (دا عقبه) ورکول د طعام ډوډی دي په هغې ورځې کښې چه خاونده د لوږی وی.

**تفسير** : يعني عقبه د قحطی او قیمتی او سختی په ورځو کښې له وږی سره مرستی (مدد) کول او هغوی ته د خوړو شیان وربرابرول دي.

يَتِيمٗا ذَا مَقۡرَبَةٍ ⑮ أَوۡ مِسۡكِينٗا ذَا مَتۡرَبَةٖ ⑯

يتيم ته چه خاوند د خپلوی وی. يا غريب ته چه په خاورو ککړ وی.

**تفسير** : د وړوکی پلارمړی (يتيم) خدمت کول ثواب دي او له خپلوانو قرابت لرونکيو سره ښيګڼه (ښه) هم ډير ثواب لری چری چه دا دواړه ثوابونه يو ځای شی نو د هغې ثواب هم دوچنده کيږی.
عقبه ډوډی طعام ورکول دي د لوږی په ورځې کښې غريب ته چه په خاورو ککړ وی او د فقر او له فاقی د تنګسی او خواری څخه په خاورو کښې رغړی نو د مال د لګولو ځايونه ښائی چه داسی وی نه دا چه د ښادی او د غم په فضولو رسمونو کښې او د الله تعالیٰ په نافرمانی کښې مالونه ولګول شی او دنيوی نقصان او اخروی خسران وګټلی شی.

ثُمَّ كَانَ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ

بیا وی (دغه آزاد کوونکی طعام ورکونکی) له هغو کسانو چه ايمان ئی راوړی دي.

**تفسير** : يعني د ګردو (ټولو) عملونو مقبوليت او د منلو شرط «ايمان» دي که ايمان نه وی نو ګرد (ټول) کارونه او عملونه چتی (بيکاره) او فضول دي او هيڅ په کار نه راځی.

وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلصَّبۡرِ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلۡمَرۡحَمَةِ ⑰

او وصيت كوی يو له بله په صبر سره (په طاعت او مصيبت او له معصيته) او وصيت كوی يو له بله په مهربانی او شفقت سره.

**تفسير :** يعنی نورو ته تل تاكيد كوی چه ښائی د حقوقو او فرائضو په اداء كولو كښی هر راز (قسم) سختی او ربړونه (تكليفونه) پر خپل ځان وګالیږ(برداشت كړی) او د هر ډول (طريقه) تكليف تحمل وكړئ! او د الله تعالیٰ پر مخلوق باندی رحم كوئ! تر څو چه د آسمان خاوند هم پر تاسی باندی ورحميږی.

أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ ﴿١٨﴾

دغه (صابران مهربانان مؤمنان) اصحاب خاوندان د ښی طرف د لوئی برخی دی.

**تفسير :** يعنی دا كسان ډير خوش نصيب او مبارک دی چه هغوی ته د لوی عرش په ښی خوا كښی ځای وركاوه كيږی او د دوی اعمالنامی هم د هغوی له ښی خوا په ښی لاس ورسپارلی كيږی.

وَالَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِنَا هُمْ أَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ ﴿١٩﴾

او هغه كسان چه كافران شوی دی په آيتونو ځمونږ هم دوی اصحاب خاوندان د كيڼ طرف د بدی برخی دی.

**تفسير:** يعنی هغه كسان چه بد نصيب منحوس خراب شامت لرونكی دی چه اعمالنامی ئی په كيڼ لاس كښی ور كولی كيږی او د لوی عرش په كښی خوا كښی درول كيږی.

عَلَيْهِمْ نَارٌ مُؤْصَدَةٌ ﴿٢٠﴾

وی به پر دوی باندی اور سرپوښ كړی شوی

**تفسير :** يعنی په دوزخ كښی اچول كيږی او دوزخ ګردی (تولی) دروازی تړلی كيږی (اعاذنا الله منها).

**تمت سورة البلد بفضل الله الصمد فلله الحمد والمنة**

سورة الشمس مكية وهی خمس عشرة آية وفيها ركوع واحد رقم تلاوتها (٩١) تسلسلها حسب النزول (٢٦) نزلت بعد سورة «القدر».

د «الشمس» سورت مكی دی (١٥) آيته يوه ركوع لری په تلاوت كښی (٩١) په نزول كښی (٢٦) سورت دی وروسته د «القدر» له سورته نازل شوی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع كوم په نامه د الله چه ډير زيات مهربان پوره رحم لرونكى دى

وَالشَّمْسِ وَضُحٰهَا ۞ وَالْقَمَرِ اِذَا تَلٰهَا ۞

قسم دى په لمر باندى او په رڼا د هغه باندى او په سپوږمى باندى كله چه راځى په دغه (لمر) پسى.

**تفسير :** يعنى د لمر له ډوبيدلو څخه وروسته كله چه د سپوږمى رڼا خوره شى.

وَالنَّهَارِ اِذَا جَلّٰهَا ۞

او (قسم دى) په ورځ باندى كله چه ښكاره كاندى دغه (لمر)

**تفسير :** يعنى كله چه په ورځ كښى لمر د خپلى پوره پلوشى او روښنائى او صفائى سره رڼا غورځوونكى شى.

وَالَّيْلِ اِذَا يَغْشٰهَا ۞

او (قسم دى) په شپه باندى كله چه پټ كړى هغه (لمر) په تياره خپله كښى.

**تفسير :** يعنى كله چه د شپى تياره ښه توره شى او د لمر د رڼا هيڅ نښه او پته نه وى.

وَالسَّمَآءِ وَمَا بَنٰهَا ۞

او (قسم دى) په آسمان او په هغه (ذات باندى) چه جوړ كړى ئى دى هغه (آسمان).

**تفسير :** يعنى په هغه شان او عظمت سره چه له لرى ښكارى هغه ئى جوړ كړى دى او د ځينو په نزد له «مابنٰها» څخه د هغه جوړوونكى دى اكرم شانه و اعظم برهانه! جل جلاله و عم نواله.

وَالْأَرْضِ وَمَا طَحٰهَا ﴿٦﴾

او (قسم دی) په ځمکې او په هغه (ذات باندی) چه غوړولی ئی ده هغه (ځمکه).

**تفسير :** يعنی په هغه حکمت سره ئی هغه وغوړوله او د مخلوق د هستوګنی وړ (لائق) ئی وګرځوله. دلته هم ځينو له «ماطحٰها» څخه د هغه غوړوونکی مراد اخيستی دی اکرم شانه واعظم برهانه جل جلاله عم نواله.

وَنَفْسٍ وَّمَا سَوّٰىهَا ﴿٧﴾

او (قسم دی) په نفس او په هغه (ذات باندی) چه برابر کړی ئی دی (اندامونه د) هغه.

**تفسير :** د مزاج اعتدال، ظاهری او باطنی حواسيه طبيعيه او حيوانيه او نفسانيه قواوی ئی په تناسب سره ورکړی دی او د نيکی او د بدی په لارو باندی ئی د تللو استعداد ورعطا فرمايلی دی.

فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوٰىهَا ﴿٨﴾

پس ورغوځولی ښوولی ئی ده په زړه د ده کښې بدی د ده او نيکی د ده.

**تفسير :** يعنی اول ئی په اجمالی دول (طريقه) د سليم عقل او صحيح فطرت په وسيله په ښو او بدو کښې د فرق کولو پوه راکړی ده. بيا ئی په تفصيلی صورت د انبياؤ او رسولانو په ژبه ښه ښکاره راښودلی دی چه دا لار د بدی ده او هغه د پرهيزګاری ده. وروسته له هغه ئی په زړه کښې هغه رجحان چه د نيکی يا هغه ميلان چه د بدی په نسبت وی د دی دواړو خالق هم الله تعالیٰ دی خو د رومبنی په القاء کښې پرښته وسيله کيږی او په دوهمه کښې شيطان. بيا هغه رجحان او ميلان کله د انسان له قصد او اختيار څخه تر مرتبه د عزم پوری رسيږی او د فعل د صدور وسيله ګرځی چه د هغه خالق الله تعالیٰ او کاسب ئی بنده دی د دی خير او شر په کسب کښې د مجازاتو سلسله د تسبيب په طريقه قائمه ده **وهذه المسألة من معضلات المسائل. و تفصيلها يطلب من مظانها و نريد ان نفرد لها جزءاً ان ساعدنا التوفيق والله الموفق والمعين.** او جواب د دغو پاس قسمونو چه د دغه سورت له شروع څخه شروع شوی

دی دا دی.

قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَكّٰىهَا ۝

چه په تحقیق سره نجات ومونده په مراد ورسید هغه څوک چه پاک ئی کړ دا (نفس له معاصیو).

**تفسیر :** د نفس پاکول او صفائی دا ده چه شهوانی او غضبانی قواوی د عقل تابع شی او عقل د الهٰیه شریعت تابعدار وګرځی تر څو چه روح او قلب دواړه د الله تعالیٰ د تجلی په رڼا کښی روڼ او منور شی.

وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسّٰىهَا ۝

او په تحقیق نامراد زیانمن شو هغه څوک چه پټ ئی کړ دغه (نفس په خاورو د ګناهونو کښی).

**تفسیر :** له خاورو پټ کولو څخه مطلب دا دی چه د نفس متروکه ئی له یوی مخی د شهوت او د غضب په لاس ورکړی او له عقل او شرعی سره هیڅ ارتباط او اړه (تعلق) ونه لری ګواکی د هوس او د نفسانی غوښتنی مربی او بنده شی داسی سړی له څناورانو څخه خراب او ذلیل دی.

**تنبیه :** ﴿قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَكّٰىهَا وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسّٰىهَا﴾ د قسم جواب دی او د هغه مناسبت د قسمونو سره دا دی لکه چه الله تعالیٰ پخپل حکمت د لمر تودوخی او رڼا د سپوږمی روښانتیا، د ورځی پلوشی، د شپی تیاره، د آسمان هسکتوب (اوچتوالی)، د ځمکی تیتوالی ئی یو د بل په مقابل کښی پیدا کړل او په انسانی نفس کښی ئی هم د خیر او شر متقابل قوتونه کیښوول او ده ته ئی د داسی پوه او عقل قوت وروباښه چه پر هغه باندی د پوهیدلو په لاره باندی د تللو قوت او قدرت ولری. په داسی متضادو او مختلفو اعمالو باندی د مختلفو ثمراتو او نتائجو مرتبول هم د هغه حکیم مطلق کار دی. د خیر او د شر او د هغو د مختلفو آثارو نتائج او ثمرات په عالم کښی د تخلیق د حکمت په اعتبار داسی موزون او مناسب دی لکه په توره تیاره کښی د رڼا او د نور وجود.

كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ بِطَغْوٰىهَآ ۝

دروغجن کړی ؤ ثمودیانو (رسول خپل لره) په خپلی سرکښی سره.

**تفسير :** يعني حضرت صالح عليه السلام ئى دروغجن وباله. دا د ﴿ وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسّٰهَا ﴾ يو مثال ئى د عبرت په شان بيان وفرمايه. دا قصه د (الاعراف) په سورت او نورو ځايونو كښې په تفصيل سره ذكر شوى ده.

إِذِ انۢبَعَثَ أَشْقٰىهَا ﴿١٢﴾ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللّٰهِ نَاقَةَ اللّٰهِ وَسُقْيٰهَا ﴿١٣﴾

كله چه پورته شو (په چابكى سره) لوى بدبخت د هغوى (چه قذار بن سالف و په رضاء د قوم خپل دپاره د وژلو د هغى اوښى) وى ويل دوى ته رسول د الله (خبردار پريږدئ لاس پورته كړئ له) اوښى د الله او د اوبو څښلو د نوبت د هغى (چه دربانډى رانشى عذاب).

**تفسير :** يعني خبردار دا اوښه ونه وژنئ! او نه د هغى د وار او نوبت اوبه بندى كړئ! د اوبو ذكر ئى ځكه وفرمايه چه په ښكاره ډول (طريقه) د هغى د وژلو سبب د هغوى د لورى هم دا اوبه وى او د الله تعالىٰ اوښه ئى ځكه ووېل چه پاك الله هغه د حضرت صالح عليه السلام د نبوت معجزه او نښه ګرځولى وه او په دى اعتبار د هغى احترام واجب بلل شوى وو. دا قصه پخوا له دى نه په (الاعراف) او نورو سورتونو كښې هم ياده شوى ده.

فَكَذَّبُوهُ فَعَقَرُوهَا فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ رَبُّهُمْ بِذَنۢبِهِمْ فَسَوّٰىهَا ﴿١٤﴾

نو دروغجن كړ دغو (ثموديانو صالح په نزول د عذاب كښې) پس زخمى او مړه ئى كړه هغه (اوښه) نو سخت عذاب ئى وليږه په دوى باندى رب د دوى (چه تول يكښې مړه شول) په سبب د ګناه د دوى (چه تكذيب د رسول او وژل د اوښى دى) نو برابر ئى كړل سره دغه (تول په هلاك كښې).

**تفسير :** حضرت صالح عليه السلام فرمايلى و ﴿ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ په دى اوښى باندى په بدى سره لاس مه لګوئ كنه په خوږوونكى عذاب به ككړ شئ» دى خلقو دا خبره دروغ وګڼله او د خپل پيغمبر تكذيب ئى وكړ او اوښه ئى ووژله په پاى (آخر) كښې هم هغه وشوه چه حضرت صالح عليه السلام ويلى و الله تعالىٰ هغوى تول لوى او واړه پناه كړل.

وَلَا يَخَافُ عُقْبٰهَا ﴿١٥﴾

او نه ويرېږي (الله) له عقوبت او هلاکت د دوی څخه.

تفسير : يعني لکه دنيوی باچاهانو ته د کوم لوی قوم يا ملک له سزا ورکولو څخه وروسته تل دا فکر او خيال وی چه چيری بيا هلته کوم شورش او فتنه پيدا نشی او د ملک په انتظام او په ملکی او لښکری چارو کښی څه خلل او ډيل راښکاره نشی الله تعالیٰ له داسی انديښنو څخه پاک او بی پروا دی. ولی چه داسی بل کوم يو قوت او طاقت نشته چه د دی په هيداد رسيدليو مجرمانو په کسات اخيستلو او انتقام پسی وګرځی (العياذ بالله)

**تمت سورة الشمس بفضل الله وكرمه ومنه**

سورة الليل مكية وهی احدی و عشرون آية و فيها رکوع واحد رقم تلاوتها (۹۲) تسلسلها حسب النزول (۹) نزلت بعد سورة الاعلیٰ.

د «الليل»سورت مکی دی (۲۱) آيته (۱) رکوع لری په تلاوت کښی (۹۲) او په نزول کښی (۹) سورت دی.

وروسته د «الاعلیٰ» له سورته نازل شوی دی.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډير زيات مهربان پوره رحم لرونکی دی

وَالَّيْلِ إِذَا يَغْشٰى ۝١ وَالنَّهَارِ إِذَا تَجَلّٰى ۝٢ وَمَا خَلَقَ الذَّكَرَ وَالْأُنْثٰٓى ۝٣ إِنَّ سَعْيَكُمْ لَشَتّٰى ۝٤

قسم دی په شپه کله چه پټ کړی (هر شی په تياره خپله سره) او (قسم دی) په ورځ باندی کله چه روښانه شی او (قسم دی) په هغه ذات باندی چه پيدا کړی ئی دی نارينه او ښځه (له يوه اوبو نه)، او جواب د قسم دا دی) چه بيشکه سعی عملونه ستاسی خامخا راز راز (قسم قسم) دی (چه څينی طاعت کوی او څينی معصيت).

تفسير : يعنی همغسی چه په دنيا کښی ورځ او شپه، نر او ښځه مختلف او متضاد شيان پيدا کړی شوی دی بيا د دی مختلفو اعمالو او مساعيو ثمری او نتيجی هم مختلفی دی چه د هغو

نتائج او ثمرات به مختلف او متضاد وی لکه چه د هغو ذکر اوس الله جل شانه واعظم برهانه سره له اختلاف او مجازات ئی دغسی فرمائی

فَأَمَّا مَنْ أَعْطَىٰ وَاتَّقَىٰ ۝٥ وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَىٰ ۝٦ فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرَىٰ ۝٧

نو هر څه هغه چه ورکړه ئی کوله (د مال) او ویریده (له الله) او یقین ئی کړی و په ښه کلمه (د ایمان) نو ژر ده چه تیار به ئی کړو دپاره د لاری آسانی (د شریعت).

تفسیر : یعنی هغه سړی چه په نیکه لاره کښی مال لګوی. او په زړه کښی له الله تعالیٰ څخه ویریږی. او اسلامی خبری رښتیا ګڼی. او پر ربانی بشاراتو باندی باور لری او صحیح ئی ګڼی. د هغه دپاره به مونږ سم له خپل عادت سره د نیکی لاری ورآسانوو او په پای (آخر) کښی به ئی د آسانی او راحت مقام ته رسوو چه د هغه نوم جنت دی.

وَأَمَّا مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنَىٰ ۝٨ وَكَذَّبَ بِالْحُسْنَىٰ ۝٩
فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرَىٰ ۝١٠

او هر څه هغه چه بخیلی ئی وکړله (په اداء د حقوقو) او بی پروائی ئی وکړله (له الله) او دروغ ئی وګڼله ښه کلمه (د ایمان) نو ژر ده چه تیار به ئی کړو دپاره د لاری سختی (د بدعملی).

تفسیر : یعنی هغه سړی چه د الله تعالیٰ په لاره کښی خرڅ ونه کړ. او د هغه د خوښی او د آخرت د ثواب پروا ئی ونه کړه او د اسلام خبری او د الله تعالیٰ وعدی ئی دروغ وبللی. د هغه زړه ورځ په ورځ تنګ او تیاره او کلکیږی. د نیکی توفیق ورځنی سلبیږی او په پای (آخر) کښی به ورو ورو د عذاب الله انتهائی سختی وررسیږی هم دا د الله تعالیٰ عادت دی چه نیکان هر کله ښی چاری ځان ته غوره کوی او بدان هر کله په بد عمل پسی ګرځی دی دواړو ته د هم دوی لاری ور آسانوی چه هغوی هغه سم د الله تعالیٰ له تقدیر سره او د خپلی ارادی او اختیار له مخی غوره کړی دی ﴿ كُلًّا نُّمِدُّ هٰٓؤُلَآءِ وَهٰٓؤُلَآءِ مِنْ عَطَآءِ رَبِّكَ ۚ وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحْظُورًا ﴾ د جزء ۱۵ اسراء ۲ رکوع ۲۰ آیت .

وَمَا يُغْنِي عَنْهُ مَالُهُ إِذَا تَرَدَّىٰ ۝١١

او نه دفعه کوی له ده څخه (عذاب) مال د ده کله چه هلاک شی په کنده

کښیی ولویږی.

تفسیر : یعنی هغه مال او دولت چه دوی پری داده دی او دوی ئی له آخرت څخه بی پروا کری هغه د یوی ذری په قدر هم دوی له عذاب څخه نه خلاصوی.

إِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدَىٰ ﴿١٢﴾ وَإِنَّ لَنَا لَلْآخِرَةَ وَالْأُولَىٰ ﴿١٣﴾

بیشکه پر مونږ دی خامخا هدایت سمه صافه لاره ښوول او بیشکه مونږ ته دی خامخا آخرت او دنیا (یعنی زه مالک د دی دواړو یم نو خطاء کوی هغه چه دا دواړه غواړی له بل چا نه).

تفسیر : یعنی څمونږ د حکمت داسی اقتضاء نه ده چه څوک په زور او زیادت سره په ښو یا بدو چارو باندی مجبور کرو هوا څمونږ په ذمه او غاړه ده چه کردو (تولو) ته د ښو او بدو لاری وروښیو او ښه او بد وربنکاره کړو او د دواړو نتیجی په ښه شانی ورته ووایو. بیا هر چا چه هره لاره ځان ته غوره کړه په دنیا او آخرت کښی به سم له هغی سره جزا ورکاوه شی.

فَأَنذَرْتُكُمْ نَارًا تَلَظَّىٰ ﴿١٤﴾

نو وویرولئ ما تاسی (ای منکرانو) له اوره چه لمبی به وهی.

تفسیر : له دی لمبی وهونکی څخه به ښائی د دوزخ هغه طبقه مراد وی چه خورا (دیرو) لویو مجرمانو او بدبختانو لره مخصوصه ده.

لَا يَصْلَاهَا إِلَّا الْأَشْقَى ﴿١٥﴾ الَّذِي كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿١٦﴾

نه به ننوځی (په طریقه د دوام سره) په هغه (اور د دوزخ) کښی مکر لوی بدبخت (کافر) هغه چه دروغ کڼی حق او مخ ئی تری کرځولی وی.

تفسیر : یعنی تل به هلته لویږی او هیڅ کله به له هغه ځایه نه وځی. **کما تدل علیه النصوص**

وَسَيُجَنَّبُهَا الْأَتْقَى ﴿١٧﴾

او ژر ده چه ګوښه (بیل) به شی له هغه اوره ښه ویریدونکی (مؤمن).

**تفسیر :** یعنی د داسی خلقو سپیڅو ته د هغه وږمه هم نه رسیږی او بالکل ورځنی صاف او پاک او ژغورلی (بچ) وی.

الَّذِي يُؤْتِي مَالَهُ يَتَزَكَّىٰ ﴿۱۸﴾

هغه چه ورکوی مال خپل لپاره د دی چه پاک شی.

**تفسیر :** یعنی د نفس پاکول له بخل او طمع او نورو رذائلو څخه په داسی دول (طریقه) مقصود دی چه ریا، نمایش او دنیوی اغراض هیڅ پکښی نه وی.

وَمَا لِأَحَدٍ عِنْدَهُ مِنْ نِعْمَةٍ تُجْزَىٰ ﴿۱۹﴾ إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِ الْأَعْلَىٰ ﴿۲۰﴾ وَلَسَوْفَ يَرْضَىٰ ﴿۲۱﴾

او نه و هیڅا لره په نزد د ده هیڅ نعمت احسان چه بدل ئی ورکاوه شی مګر دپاره د طلب د رضاء د رب خپل چه دیر لوی دی او خامخا ژر ده چه دی به راضی شی (له الله په موندلو د نعماؤ د جنت او لقاء د رب العزت).

**تفسیر :** یعنی له خرڅ کولو څخه د کوم مخلوق احسان او د حق اداء کول مقصد نه وی بلکه خالص د مولیٰ د رضاء او د پاک الله د لقاء د تمنا کولو دپاره خپل کور او شته خیراتوی او لوتوی نو داسی څوک دی داده وی چه هرومرو (خامخا) به خوښیږی او د هغه دا هیله (امید) پوره کیږی ﴿ وَإِنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ ﴾

**(تنبیه) :** اګر که د دی آیتونو مضمونونه عام دی خو په زیاتو روایتونو کښی داسی راغلی دی چه د دی وروستنیو آیتونو نزول د سیدنا حضرت ابی بکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه په شان کښی شوی دی او دا لوی دلیل د هغوی په ښیګڼی (فائدی) او فضیلت باندی دی. خوشبخته او خوش نصیبه دی هغه بنده چه د هغه د دیرو ویریدلو او اتقاء تصدیق له آسمانه وشی ﴿ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ ﴾ او د حضرت حق له لوری هغه ته د ﴿ وَلَسَوْفَ يَرْضَىٰ ﴾ زیری د هغه لوی زیری انعکاس دی چه وروسته له دی نه د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په باره کښی ﴿ وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَىٰ ﴾ راغلی دی.

**تمت سورة الليل بفضل الله تعالیٰ ومنه وکرمه**

سورة «الضحیٰ» مکیة وهی احدی عشرة آیة و فیها رکوع واحد رقم تلاوتها (۹۳) تسلسلها حسب النزول (۱۱) نزلت بعد سورة «الفجر»

د «الضحیٰ» سورت مکی دی (۱۱) آیة (۱) رکوع لری په تلاوت کښی (۹۳) او په نزول کښی (۱۱) سورت دی. وروسته د «الفجر» له سورته نازل شوی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

وَالضُّحٰى ۝١ وَالَّيْلِ اِذَا سَجٰى ۝٢ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى ۝٣

قسم په څاښت (چه روښانه دی) او قسم دی په شپه کله چه تیاره شی (او پټ کړی اشیا په تیاره خپله کښی) چه نه دی درکړی رخصت تاته (نه ئی پریښی) رب ستا او نه ئی دښمن نیولی ئی ته (ای محمده!)

**تفسیر** : په صحیحه ؤ روایتونو کښی راغلی دی چه تر ډیر مدت پوری پر حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی وحی رانغله او حضرت جبریل علیه السلام حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ته رانغی مشرکینو په پخپلو منځونو کښی وویل «وګورئ چه (محمد) د خپل الله له لوری رخصت کړ شو» د دی خبری په جواب کښی دا آیتونه نازل شول. ځما په ګمان (والله اعلم) چه دا زمانه د فترت الوحی زمانه وه کله چه د قرآن د ﴿اِقْرَاْ﴾ سورت ابتدائی آیتونه نازل شول نو وروسته له هغه تر یو اوږد مدت پوری وحی راتلل معطل پاتی شول او پخپله حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم به د دی فترت په زمانه کښی ډیر مغموم او پریشان ؤ تر دی چه د الله تعالیٰ له خوا پرښتی هغوی ته د ﴿يٰۤاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ﴾ خطاب واوراوه، اغلباً په دی زمانی کښی به مخالفانو داسی خبری کولی لکه چه ابن کثیر رحمة الله علیه له محمد بن اسحٰق رحمة الله علیه او نورو څخه هغه الفاظ چه نقل کړی دی هغه د دی احتمال تائید کوی. ممکن دی چه په دغه وقت کښی به دا قصه هم پیښه شوی وی چه په ځینو صحیحه ؤ روایتونو کښی راغلی ده چه یو ځلی رسول الله صلی الله علیه وسلم د ناروغی له سببه دوه دری ورځی په بستره کښی پریوت نو یوی خبیثی ښځی وویل «ای محمده! داسی راښکاری چه ستا شیطان له تا څخه مرور شوی دی» العیاذ بالله لنده ئی دا چه دا راز (قسم) چتی (بیکاره) خبری او اتری دیری کیدی. تر دی چه د دی ګردو (ټولو) خرافاتو په جواب کښی د «والضحیٰ» سورت نازل شو او رومبی ئی قسم یاد

کړ د لمر ختو په وقت باندی او بیا ئی په توره تیاره شپه باندی او بیا ئی وفرمایل چه د دښمنانو دا ګرد (ټول) خیالات او ویناوی غلطی دی نه ستا پروردګار له تا څخه خپه او نه ئی تاته رخصت درکړی دی بلکه هسی چه ښکاره ده هغه د خپل قدرت او حکمت راز راز (قسم قسم) علائم او نښی ښکاره وی او وروسته له ورځی څخه شپه او پس له شپی څخه ورځ کوی د باطنی حالاتو کیفیت هم داسی وګڼئ لکه چه د لمر د رڼا د لړی کیدلو څخه د شپی تیاره کیدل د الله تعالیٰ د خفګان دلیل نشی کیدی او نه داسی کوم دلیل او ثبوت په لاس کښی شته چه په رڼا پسی تیاره او په تیاره پسی رڼا نه راځی نو د څو ورځو د رڼا له نه بریښیدلو څخه ولی داسی اټکل کاوه شی چه «په دی ورځو کښی الله جل جلاله له خپل غوره شوی پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه خفه شوی دی او بیا وحی ورته نه راځی او د جبریل علیه السلام د راتللو ور ترلی شوی دی» داسی وینا د الله تعالیٰ په حکمت بالغه او علم محیط باندی اعتراض کول دی ګواکی دوی خبر نه دی چه هغه سری می چه په پیغمبری تاکلی (مقرر کړی) دی هغه د نبوت وړ (لائق) دی، او وروسته به درښکاریږی چه هغه څومره ښه ښه کارونه کوی او د خلقو د ښیګنی (فائدی) لپاره څه څه ښی چاری ښیی. او بالکل دغه رسالت او تبلیغ لپاره ډیر اهل او اصلح ثابتیږی. (**اللّٰهم صل وسلم علیه صلوٰة و سلاماً کثیراً کثیراً**)

وَلَلۡاٰخِرَةُ خَیۡرٌ لَّكَ مِنَ الۡاُوۡلٰی ﴿۴﴾

او خامخا آخرت بهتر دی تا لره (ای محمده!) له دنیا څخه .

**تفسیر :** یعنی ستاسی وروستنی حالت له وړاندنی حالت څخه ډیر ارفع او اعلیٰ دی. د دی څو ورځو د وحی نه راتګ ستاسی د نزول او انحطاط سبب کیدی نشی بلکه ستاسی د ډیر عروج او د خورا (ډیر) ارتقاء وسیله کیږی که د وروستنی ورځی حالت تصور کړئ او د آخرت شان او لویی ته ځیر شئ چه هلته به آدم علیه السلام او د هغه ګرده (ټوله) اولاده ستاسی تر بیرغ لاندی تولیږی نو درښکاره به شی چه د تاسی د هغی ورځی لوئ او فضیلت او عظمت د نن ورځی د اعزاز او اکرام څخه په څو څو درجو پورته وی.

وَلَسَوۡفَ یُعۡطِیۡكَ رَبُّكَ فَتَرۡضٰی ﴿۵﴾

او خامخا ژر ده چه در به کړی تاته رب ستا (ای محمده لویه برخه په آخرت کښی او اختیار د شفاعت) پس راضی به شی ته.

**تفسیر :** یعنی خفه کیدل او بیزاری او پریښودل به څنګه وی اوس خو به تاته ستا رب په دنیا

او آخرت کښې دومره دولتونه او نعمتونه دروبښي چه ته پوره ډاده او خوښ شي. په حديث کښې راغلي دي چه نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چه د محمد صلی الله عليه وسلم به هلته خوښ او خوشاليږي چه د ده له امت څخه يو تن هم په دوزخ کښې پاتې نشي. صلی الله عليه وسلم.

## أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَىٰ ۞

آيا نه ئې وې موندلې ته (اې محمده) يتيم (وړوکې بې پلاره بلکه موندلې ئې وې) نو ځاى ئې د پناه درکړه (په تربيت د ابوطالب کښې ئې ونيولې).

**تفسير :** د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د باسعادت ولادت څخه پخوا د دوى پلار مړ شوى و دى شپږ کلن و چه مور ئې هم مړه شوه په اته کلنۍ ئې نيکه عبد المطلب چه د دوى کفالت وربغاړه و هم مړ شو بيا د دى دريتيم او نادر روزگار د ظاهراً روزني او پالني سعادت د ده بيحده مهربان او شفيق تره ابو طالب ته په غاړه شو ابو طالب پخپل ژوندون کښې د دوى په نصرت، حمايت، تکريم، تبجيل او خدمت کښې ډير زيار (محنت) ووېست خو پخوا له هجرت څخه دى هم مړ شو څو ورځې وروسته د الله تعالىٰ دا امانت د مدينې منورى د انصارو په برخه شو او د (اوس) او د (خزرج) د قبيلې د قسمت ستورى وځليدل او دوى د هغوى په خدمت او حفاظت کښې ډير ربړونه (تکليفونه) وګالل (برداشت کړل) او د حضرت نبوى دغسې ښه خدمت او صيانت ئې وکړ چه په ټول جهان کښې د هغه نظير او مثال نشته دا ګردى (تولى) پيښې درجه په درجه تر (ابواء) لاندى راځي. کما اشار اليه ابن کثير رحمة الله عليه.

## وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدَىٰ ۞

او موندلې ئې وې ته چه نه پوهيدى (په شرع او احکامو د شريعت) نو در وښوده (تاته شرعي احکام او در ئې کړ نبوت).

**تفسير :** يعني کله چه رسول اکرم صلی الله عليه وسلم ځلمى شو د خپل ټبر د مشرکانه ؤ اطوارو او چتي (بيکاره) رسمونو او رواجونو څخه سخت خفه او بې زار وو او د هغوى په زړه کښې يوائې د الله تعالىٰ د عبادت جذبه په قوت کښې وه د الله تعالىٰ د عشق اور د دوى په پاک تټر (سينه) کښې په ډير زور په لمبو کښې ؤ د وصول الى الله او د هدايت خلق الله د استعداد خورا (ډير) زيات قوت او ډير قدرت د دوى په قدسى نفس کښې په وديعت ايښود شوى و خو په ښکاره دول (طريقه) کومه سمه لاره او مفصل دستور العمل دوى ته نه و خرګند

(ښكاره) چه له هغه ځخه د هغوى هغه لوى زړه ته چه د عرش او كرسى ځخه زيات وسعت او رحمت پکښې ۇ دادينه (سكون) او تسكين په برخه شي. د دى د طلب په جوش او زيات محبت كښې به دوى بيقرار او سرګردان ګرځيده او د غرونو په درو او په سمځو كښې به ګوښى (بيل) كيناستل او د الله تعالىٰ عبادت به ئى كاوه او خپل حقيقى معبود به ئى ياداوه تر څو چه الله تعالىٰ د (حراء) په سمځ كښې د پرښتې په ژبه دوى ته وحى ورولیږله او د وصول الى الله او د خلق الله د اصلاح تفصيلى لارى ئى وروښوودلى يعنى د حق دين ئى ورنازل كړ

﴿ مَاكُنْتَ تَدْرِىْ مَا الْكِتٰبُ وَلَا الْاِيْمَانُ وَلٰكِنْ جَعَلْنٰهُ نُوْرًا نَّهْدِىْ بِهٖ مَنْ نَّشَآءُ مِنْ عِبَادِنَا ﴾ د جزء ۲۵ شورىٰ ٥ ركوع ٥٢ آيت

**تنبيه :** دلته د ﴿ ضَآلًّا ﴾ د معنى كولو په وقت كښې ښائى هغه ښوونى چه د يوسف عليه السلام په سورت كښې د دى آيت ۹٥ ﴿ قَالُوْا تَاللّٰهِ اِنَّكَ لَفِىْ ضَلٰلِكَ الْقَدِيْمِ ﴾ په تفسير كښې ليكلى شوى دى تر كتنى لاندى ونيولى شي.

---

## وَوَجَدَكَ عَآئِلًا فَاَغْنٰى ﴿۸﴾

---

او موندلى ئى وى ته فقير پس غنى ئى كړى (په مال د غنيمت يا په مال د خديجى يا د زړه په غناء سره).

---

**تفسير :** په دى شان چه دوى د حضرت خديجى رضى الله تعالىٰ عنها په تجارت كښې مضارب شو او په هغه كښې ئى ګټه (فائده) وكړه بيا حضرت خديجى رضى الله تعالىٰ عنها له دوى سره نكاح وكړه او خپل ګرد (تول) مال ئى هغوى ته تمليک كړ چه دا ښكاره غناء ده. د دوى باطنى او قلبى غناء هغه وه چه هغه د دواړو دارينو غنى ذات ته ښه معلوم دى او هيڅ يو سرى د هغه اندازه نشى كولى مطلب دا چه تاسى له ابتداء ځخه د انعاماتو مورد يئ او پس له دى نه به هم يئ هغه الله تعالىٰ چه په دى دول (طريقه) ستاسى تربيت كړى دى نو ځرنګه به له تاسى ځخه خفه كيږى؟ او تاسى به هم داسى خوشى په ډګر كښى پريږدى «**استغفر الله من ذلک**»

---

## فَاَمَّا الْيَتِيْمَ فَلَا تَقْهَرْ ﴿۹﴾ وَاَمَّا السَّآئِلَ فَلَا تَنْهَرْ ﴿۱۰﴾ وَاَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ﴿۱۱﴾ ع

---

نو هر څه يتيم ته پس قهر مه كوه (او د پلار پشان ئى اوسه!) او هر څه سوالګر لره پس مه رټه (څه شي ورته وركړه يا ئى په ورو رد كړه) او هر څه په نعمت د رب خپل پس خبرى كوه بيانوه ئى (خلقو ته).

**تفسیر :** بلکه د یتیم خبر نیونه او پالنه وکړه! لکه چه تاته الله تعالیٰ د یتیمی په حالت کښی ښه ځای درکړ نو ته هم د یتیمانو د زړه د خوښی اسباب ورغونده! او د هغوی د هستوګنی د ځای سر رشته کوه! چه په داسی مکارمو اخلاقو سره بندګان د الله تعالیٰ په رنګ سره رنګول کیږی ﴿ صِبْغَةَ اللّٰهِ ۚ وَمَنْ اَحْسَنُ مِنَ اللّٰهِ صِبْغَةً ﴾ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی «**انا و کافل الیتیم کهاتین و اشار الی السبابة والوسطی**»

او هر څه سوالګر لره پس مه ئی رټه او څه شی ورته ورکړه! یا ئی رد کړه په نیکی او خوږی ژبی سره یعنی ته نادار وی الله تعالیٰ تاته غناء دروبښله اوس نو د شکر ګزارو بندګانو حوصله ښائی چه داسی وی چه د غوښتونکی له غوښتنی څخه زړه تنګی نه شی! او د حاجتمندانو له سؤاله ونه ویرېږی! او هغو ته سختی خبری ونه وائی! او وئی نه رټی! بلکه تل په روڼ تندی او ښو اخلاقو او لوی زړه معامله ورسره وکړی هغه قصی چه په احادیثو کښی د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د اخلاقو د وسعت په نسبت د سائلینو په مقابل کښی راغلی دی خورا (ډیر) سخت مخالفان هم د هغوی د اخلاقو د وسعت ستایونکی ګرځوی.

**(تنبیه)** روح المعانی لیکی د سائل د زجر ممانعت په هغه صورت کښی دی چه خبره په ورو ومنی که کوم سائل چاته ښی تینګی کړی او په ړدو سترګو ورته ودریږی او د چا خبری ته غوږ کښینږدی نو د هغه زجر جائز دی

او هر څه په نعمت د رب خپل پس خبری کوه بیانوه ئی خلقو ته یا په نعمت د غناء باندی پس شکر کوه.

د محسن د احساناتو یادول د شکر ویلو په نیت نه د فخر او مباهاتو په ډول (طریقه) شرعاً محمود دی نو ځکه هغه انعامات چه الله تعالیٰ په تا باندی کړی دی د هغه بیان وفرمایئ! خصوصاً هغه نعمت د هدایت چه د هغه ذکر په ﴿ وَوَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدٰى ﴾ کښی وشو او د هغه خورول په خلقو کښی او په ښکاره لوړ (اوچت) غږ سره ویل ستاسی منصبی فرض دی ښائی د دوی ارشادات او خبری او نور چه په حدیثو کښی کیږی د هم دی «فحدث» څخه اخیست شوی وی والله اعلم.

## تمت سورة الضحیٰ بفضل الله تعالیٰ ومنه وکرمه

سورة الانشراح (الم نشرح) مکیة وهی ثمانی آیات و فیها رکوع واحد رقم تلاوتها (۹٤) تسلسلها حسب النزول (۱۲) نزلت بعد سورة الضحیٰ)

د «الانشراح» سورت مکی دی (۸) آیت یوه رکوع لری په تلاوت کښی (۹٤) په نزول کښی (۱۲) سورت دی وروسته د «الضحیٰ» له سورت څخه نازل شوی دی.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

أَلَمۡ نَشۡرَحۡ لَكَ صَدۡرَكَ ①

آیا نه ده فراخه کړی مونږ تا لره سینه ستا (په نبوت او حکمت سره بلکه فراخه کړی ده مونږ سینه ستا !).

**تفسیر :** چه الله تعالیٰ ستا په سینی کښې ئې ای محمده ! د علومو او د معارفو لوی سیندونه وبهول. او د نبوت د لوازمو او د رسالت د فرائضو د بار د پورته کولو لوی قوت او حوصله ئې درته وبښله. او د داسی لوی زړه او حوصلی څښتن (خاوند) ئې وګرځولی چه د ډیرو دښمنانو د عداوت او مخالفت او مزاحمت څخه نه ویریدی.

**(تنبیه)** له احادیثو او سیرو څخه ثابت دی چه پرښتی په ظاهری ډول (طریقه) څو ځلی د ده مبارک تتر (سینه) ورڅیری کړی دی خو د دی آیت له مدلول څخه په ښکاره هغه نه ښکاری والله اعلم.

وَوَضَعۡنَا عَنكَ وِزۡرَكَ ② الَّذِيٓ أَنقَضَ ظَهۡرَكَ ③

او کوز کړ مونږ له تانه درونډ بار ستا هغه چه کړه درنه کړی ئې وه شا ستا.

**تفسیر :** د وحی ښکته کیدل په اول کښې سخت مشکل ؤ بیا آسان شول. یا د رسالت منصب د ذمه واریو د محسوسولو په سبب چه د هغوی په مبارک خاطر کښې څه ګرانی راتله هغه ور پورته کړه شوه. یا له «وزر» څخه مباحه امور مراد دی چه کله کله هغه دوی د حکمت او ثواب قرین بلل او کول به ئې او وروسته به د هغه خلاف الحکمت یا خلاف الاولیٰ کیدل به ښکاریده او دوی به د علو شان او غایت القرب څخه له هغه دومره خپه او مغموم کیده لکه چه څه ګناه ئې کړی وی نو په دی آیت کښې د هغوی د نه مؤاخذه کیدلو زیری ورکړی شوی دی کذا روی عن بعض السلف حضرت شاه عبد العزیز رحمة الله علیه لیکی (د دوی عالی همت او پیدائشی استعداد به چه د کومو کمالاتو او مقاماتو د رسیدلو تقاضا درلوده (لرله) د دوی د مبارک قلب فائز کیدل په هغه باندی د جسمانی ترکیب یا نفسانی تشویشاتو په سبب به سخت معلومیدل کله چه الله تعالیٰ د هغه تتر (سینه) ورپرانیست او حوصله ئې ور ارته کره هغه ګردی (تولی) سختیاوی ئې ورکی شوی او د هغه پیتی ور سپک شو.

وَرَفَعۡنَا لَكَ ذِكۡرَكَ ۝٤

او پورته کړ مونږ تانه ذکر ستا (په نبوت سره یا می ستا نوم له خپل نامه سره پیوسته کړ).

**تفسیر :** یعنی ای محمده! صلی الله علیه وسلم په پرښتو او پیغمبرانو کښی ستا نوم لوړ او وچت دی د دنیا ګرد (تول) پوهان په ډیر عزت او وقعت سره ستا نوم یادوی. په اذان، اقامت، کلمه طیبه او التحیات، خطبه او نورو کښی وروسته د الله تعالیٰ له نامه څخه د محمد صلی الله علیه وسلم نوم اخیستِ کیږی کوم ځای کښی چه الله تعالیٰ خپلو بندګانو ته د خپل اطاعت امر کړی دی د محمد صلی الله علیه وسلم د امر د منلو امر ئی هم ورسره متصل او جخت کړی دی.

فَإِنَّ مَعَ ٱلۡعُسۡرِ يُسۡرًا ۝٥ إِنَّ مَعَ ٱلۡعُسۡرِ يُسۡرًا ۝٦

نو بیشکه سره له سختی آسانتیا شته. بیشکه سره له سختی آسانتیا شته.

**تفسیر :** یعنی د الله تعالیٰ د رضاء غوښتلو په لاره کښی هغه ربړونه (تکلیفونه) چه حضرت نبوی صلی الله علیه وسلم په ځان ګاللی (برداشت کړی) دی او هغه زیارونه (کوششونه) چه ایستلی ئی دی له هغو سختیو سره څو څو آسانی هم شته لکه د حوصلی د فراختیا په سبب د ګردو (تولو) مشکلاتو لری کول آسان شول او د ذکر د پورته کیدلو له تصور څخه تاسی ته د لویو لویو مصیبتونو تحمل آسانه وګرځیده. یا دا مطلب کله چه مونږ تاسی ته روحانی راحت درکړ او روحانی کلفت مو له تاسی څخه پورته کړ لکه چه د الم نشرح څخه تر آخره پوری ښکاریږی نو په دنیوی راحت او محنت کښی هم څمونږ فضل او کرم ته هیله (امید) ولرئ مونږ وعده کوو چه په رښتیا سره د دی موجوده ؤ مشکلاتو په پای (آخر) کښی آسانی شته لکه چه له احادیثو او سیرو څخه راښکاره شوی ده هغه ګرد (تول) مشکلات یو یو له منځه لری شوی او د هری یوی سختی په پای (آخر) کښی به څو څو آسانتیاوی راتللی. اوس هم «عادة الله» هم دا دی څوک چه په سختی باندی صبر وکړی او د زړه له کومی پر الله تعالیٰ باندی اعتماد ولری او له بل لوری څخه زړه وشکوی او خپل الله تعالیٰ سره خپلی اړیکی تینګی کړی او د هغه فضل او کرم او رحمت ته هیله (امید) ولری او د زمانی له اوږدوالی څخه ونه ویریږی او نا امیده او بی هیلی نشی نو هرومرو (خامخا) الله تعالیٰ آسانی ورته پیښوی نه په یوه ډول (طریقه) بلکه په څو څو ډوله (قسمه) وفی الحدیث «لن یغلب عسر یسرین» وفیه ایضا لو جاء العسر فدخل هذا الجحر لجاء الیسر حتی یدخل علیه فیخرجه.

فَإِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ ۝٧ وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَارْغَبْ ۝٨

نو کله چه فارغ شي (ای محمده له تبليغه يا له لمانځه نه) نو ځان ستړی کوه (په عبادت، دعاء کښې) او رب خپل ته پس رغبت او زاری کوه (په هر وقت کښې).

**تفسير :** يعني کله چه د خلقو له پوهولو څخه فارغ شي نو په خلوت کښې کينه ! زيار (محنت) کوه ! چه د زيات «يسر» سبب وګرځي او د خپل رب په لوری بلا واسطه متوجه شه !.
**(تنبيه)** خلق پوهول او هغوی ته پند ورکول د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم خورا (دير) لوی عبادت و خو په دی عبادت به في الجمله د مخلوق واسطه هم وه. مطلوب دا دی چه له هغه ځايه لری شوی بلاواسطی هم ښائی چه متوجه شي د دی آيت تفسير په څو ډوله (قسمه) نور هم شوی دی خو اقرب هم دا راښکاری.

**تمت سورة «الانشراح» بفضل الله تعالىٰ ومنه وكرمه**

سورة التين مكية وهی ثمانیآيات وفيها ركوع واحد رقم تلاوتها (۹۵) تسلسلها حسب النزول (۲۸) نزلت بعد سورة «البروج»

د «التين» سورت مکی دی (۸) آيته يوه رکوع لری په تلاوت کښی (۹۵) په نزول کښی (۲۸) سورت دی وروسته د «البروج» له سورت څخه نازل شوی دی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډير زيات مهربان پوره رحم لرونکی دی

وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ ۝١

قسم دی په انځر او زيتون خونه باندی.

**تفسير :** انځر او خوونه (زيتون) دواړه د خپل کثيرالمنافع او د جامعالفوائد توب لامله (له وجی) د انسانی حقيقت او د جامعی له ضرورت سره خصوصی مشابهت لری نو ځکه د ﴿لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ﴾ مضمون ئی په دواړو قسمونو سره شروع کړ او ځينی

محققین وائی چه دلته «التین» او «الزیتون» څخه هغو دوو غرونو ته اشاره ده چه بیت المقدس ته نژدی پراته دی گواکی دلته په ونو باندی قسم نه یادوی بلکه په هغه مقدس ځای باندی قسم یادوی چه هلته دا ونی ډیری دی او همغلته د حضرت عیسیٰ علیه السلام مولد او مبعث هم دی.

وَطُورِ سِينِينَ ﴿٢﴾ وَهَٰذَا الْبَلَدِ الْأَمِينِ ﴿٣﴾

او قسم دی په (غره چه نوم ئی) طور سینین (دی) او قسم دی په دی ښار امان ورکوونکی (د مکی) باندی.

**تفسیر :** «طور سینین» یا د «طور سینا» هغه غر دی چه پر هغه باندی الله تعالیٰ له حضرت موسیٰ علیه السلام سره خبری کړی دی او د امن ورکوونکی ښار مکه معظمه ده چه څمونږ او د گرد (تول) اسلامی عالم سردار او بادار حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په کښی متولد او مبعوث شوی دی او د الله تعالیٰ له گردو (تولو) څخه لوی او وروستنی امانت قرآن کریم اول ځلی په هم دی ښار کښی رانازل شوی دی. د توریت په آخر کښی دی چه نور د «طور سینا» څخه راغلی او په «ساعیر» کښی وبریښیده چه د بیت المقدس غر دی. او له فاران څخه جگ (اوچت) او خوور شو فاران د مکی معظمی یو غر دی. او جواب د پاس قسمونو دا دی.

لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ ﴿٤﴾

چه خامخا په تحقیق پیدا کړی دی مونږ انسان بنی آدم په ډیر ښه اعتدال سره.

**تفسیر :** یعنی دا گرد (تول) متبرکه مقامات چه له هغه څخه ډیر اولوالعزم پیغمبران مبعوث شوی دی گواه دی چه مونږ انسان په یوه ښه قالب کښی اچولی دی او ښه قوتونه مو وربښلی دی او په ظاهری او باطنی ښیگنو (فائدو) مو ښائسته کړی دی او ډیر گټور شیان مو د ده په وجود کښی راغوند کړی دی. که بنی آدم سم د خپل صحیح فطرت سره ترقی وکړی نو انسان له پرښتو څخه نه یوائی وړاندی کیږی بلکه د هغوی مسجود هم گرځیدی شی.

ثُمَّ رَدَدْنَاهُ أَسْفَلَ سَافِلِينَ ﴿٥﴾

بیا وگرځاوه مونږ هغه (انسان په ضمن د بعضو افرادو کښی) ډیر ښکته تر ښکتو نه (چه لاندنی طبقه د دوزخ ده).

**تفسير :** یا رد به کړم دغه انسان پس له ښه قامته ډیر ښکته له ښکتو نه چه هغه زوړوالی دی نو شا به ئی تیته ویښته به ئی سپین، غوږونه به ئی کانه شی او مغیر به ئی شی تول څیزونه. شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی چه هغه مو د پرښتو د مقام لائق وګرځاوه خو کله چه منکر شی نو له څناورانو څخه هم ښکته ګڼل کیږی او په خورا (ډیر) لاندنی طبقه د دوزخ کښی لویږی.

إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ﴿٦﴾

مګر هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه) نو وی به دوی ته اجر ثواب بی انتهاء بلا انقطاع.

**تفسير :** چه نه به کم او نه به ختم شی او نه به د چا احسان پری وی.

فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّينِ ﴿٧﴾

پس څه شی دی چه تا باعث کوی په دروغ ګڼلو (ای منکر د بعثه) وروسته (له دی واضحه ؤ دلائلو) په ورځ د جزاء (یا) پس څوک نسبت د دروغو به کوی تاته (ای محمده) پس له دغو واضحه ؤ دلائلو.

**تفسير :** یعنی ای سړیه! وروسته له دی دلائلو څخه ته ولی د جزاء له سلسلی څخه سر غړوی؟ او تری انکار کوی یا به دا خطاب رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته وی چه پس له دی ښو ویناؤ او صافو بیاناتو څخه څه شی منکران دی ته اړ باسی (مجبورو وی) چه د جزاء په معاملو کښی هغوی ستاسی تکذیب ته ملاوی وتری. خیال وکړه! الله تعالیٰ سړی پیدا کړ. او هغه ته ئی ډیر ښه صورت شکل او ښه وربښلی ده او د هغه قوام ته ئی داسی یو صلاحیت او ترکیب ورکړی دی که وغواړی په ښو کارونو کښی له پرښتو څخه پرمخ ځی او هیڅ یو له مخلوقاتو څخنی د هغه برابری او سیالی نشی کولی لکه چه د انسانی کاملی نمونی پخپل وقت کښی په شام بیت المقدس، د طور په غره، معظمی مکی کښی لیدلی شوی دی چه که څوک د هغوی په قدم او پله باندی تګ وکړی نو د انسانی کمالاتو او د دواړو دارینو ډیرو لوړو (اوچتو) مقاماتو ته رسیږی لیکن انسان له خپلی بی تمیزی او بدعملی څخه د ذلت او هلاکت په کنده کښی لویږی او خپلی فطری ښیګڼی (فائدی) له لاسه ورباسی. الله تعالیٰ هیڅ یو ایماندار او نیکوکاره سړی بی سببه لاندی نه غورځوی بلکه د هغه د ډیر لږ عمل ډیره زیاته صله ورته مرحمت کوی آیا د دی خبری له اوریدلو څخه وروسته به څوک وکړلی شی چه د دین فطرت د اصولو او د جزاء او د سزا داسی معقولی

قاعدی دروغ وبولی هو! په یوه دول (طریقه) د هغه تکذیب او انکار کیدی شی چه دنیا یو بی سر و پا کارخانی غوندی ومنلی شی چه په هغی باندی نه د چا حکومت وی نه پکښی کوم قانون او آئین جاری وی او نه د ښو او نه د بدو پوښتنه پکښی کیږی نو د دی خبری جواب الله اعلیٰ شانه! واعظم برهانه! جل جلاله! عم نواله! داسی فرمائی:

أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِينَ ۝٨

آیا نه دی الله ښه لوی حاکم د تولو حاکمانو؟ (بلکه ښه لوی حاکم دی پر تولو حکم کوونکیو باندی).

**تفسیر :** یعنی د دی لوئی شهنشاهی او ستری تولواکی په مخامخ کښی د دنیا گرد (تول) دولتونه او حکومتونه هیڅ دی کله چه دلته دا ووړوکی ووړوکی حکومتونه خپلو وفادارانو ته انعام او مجرمانو ته سزا ورکوی نو آیا د هغه احکم الحاکمین له درباره داسی هیله (امید) لرل کومه لویه خبره ده؟

**تمت سورة التین بفضل الله تعالیٰ وکرمه ومنه**

سورة العلق مکیة وهی تسع عشرة آیة وفیها رکوع واحد رقم تلاوتها (٩٦) وهی اول ما نزل من القرآن العظیم.

د «العلق» سورت مکی دی (١٩) آیت یوه رکوع لری په تلاوت کښی (٩٦) سورت دی او په نزول کښی هم دغه سورت ړومبنی سورت د قرآن کریم دی چه نازل شوی دی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ ۝١

ولوله (ای محمده! قرآن) په برکت د نامه د رب خپل هغه رب پالونکی چه پیدا کړی ئی دی (تول مخلوقات).

**تفسیر :** دا پنځه آیتونه له اقرأ څخه تر مالم یعلم پوری د قرآن کریم له گردو (تولو) آیتونو او

سورتونو څخه په مخکښې نازل شوی دی. حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د (حراء) په سمڅ کښې د وحده لاشریک له الله تعالیٰ په عبادت مشغول و. چه ناساپه حضرت جبریل علیه السلام له وحی سره ورننوت او ورته ئی ووی اقرأ ـ ولوله دوی وفرمایل «ما انا بقارئ: زه لوستونکی نه یم!» جبریل علیه السلام څو ځلی دوی پخپلی غیږی کښې ونیو او په زور ئی کښېښود او ورته ویل به ئی: «اقرأ» او دوی به همغه «ما انا بقارئ» ویل دریم ځلی حضرت جبریل علیه السلام دوی په ډیر زور سره کښېښود او ورته ویل به ئی: «اقرأ باسم ربک: یعنی د خپل رب په نامه او برکت سره ولوله!» مطلب دا چه هغه پروردګار چه له ولادت څخه ئی تراوسه پوری په عجیب او غریب ډول (طریقه) ستا پالنه او روزنه وفرمایله هغه څوک چه دا خبر درکوی چه له تا څخه کوم لوی کار اخیست کیږی آیا هغه به دی هم داسی یواځی او بی یار او مددګار پریږدی؟ هیڅ کله به داسی نه کیږی او تاسی ته د هغه لوی ذات په نامه ښوونه کیږی چه د هغه په لورینه (مهربانی) ستاسی تربیه او روزنه شوی ده. یعنی هغه رب العالمین اعلیٰ شانه واعظم برهانه چه ګرد (تول) شیان ئی پیدا کړل نو دا نشی کولی چه تا لوستونکی وګرځوی. بلکه قاری دی ګرځولی شی.

خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ۚ ﴿٢﴾

پیدا کړی ئی دی انسان له توټو د تړلیو شویو وینو څخه.

**تفسیر :** په کلکه وینه (خون بسته) کښې نه حس دی نه شعور نه علم دی نه ادراک یواځی لا یعقل جماد دی بیا هغه الله تعالیٰ دی لا یعقل جماد ته عقل او پوهه ورکړه نو آیا همغه الله تعالیٰ یو عاقل کامل او یو امی قاری کولی نشی؟ بلکه کولی ئی شی! تر دی ځایه پوری د قرائت امکان ثابتول و چه الله تعالیٰ ته هیڅ مشکل نه دی چه تا د امی توبه قاری وګرځوی وروسته د هغه په فعلیت او وقوع باندی ئی متنبه کوی.

اِقْرَاْ وَرَبُّكَ الْاَكْرَمُ ۙ ﴿٣﴾

ولوله (ای محمده! قرآن) حال دا چه رب ستا لوی کریم دی (پر تولو کریمانو).

**تفسیر :** یعنی په هغه شان سره چه ستاسی تربیت شوی دی له هغه څخه ستاسی کامل استعداد او پوره لیاقت ښکاره دی کله چه دلته په استعداد کښې څه قصور نشته او هلته په مبدأ فیاض کښې هم څه بخل نه لیده کیږی بلکه هغه د ګردو (تولو) کریمانو څخه لوی کریم دی بیا به نو د

فیض په وصول کښې څه مانع وی؟ او خامخا هم داسې ئې کوی!.

الَّذِیْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ﴿۴﴾

هغه (رب پالونکی) چه ښوولی ئې دی (خط انسان ته) په قلم سره.

تفسیر : حضرت شاه صاحب لیکی حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم هیڅ کله لیکونکی او لوستونکی نه و نو وئې فرمایل چه «الله تعالیٰ بی له قلمه هم پوه ورکوی» ممکن دی چه دی لوری ته هم جبریل علیه السلام محض یو وسیله دی همغسې چه د قلم توسط د دی امر مستلزم نه دی چه هغه له مستفیض څخه افضل شی هم داسې دلته هم د جبریلیه حقیقت افضلیت د محمدیه له حقیقت څخه نه لازمیږی.

عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ یَعْلَمْ ﴿۵﴾

ښوونه ئې کړی ده انسان ته د هغو شیانو چه دی پری نه پوهیده (پخوا له ښودلو).

تفسیر : یعنی د انسان وروکی چه له مور څخه پیدا کیږی په هیڅ شی نه پوهیږی بیا نو هغه ورو ورو څوک پوهوی هغه قدیر رب چه له جاهل انسان څخه عالم جوړوی څهل یو امی بنده به نه یواځی کامل عارف کړی بلکه د ګردو (ټولو) عارفانو سردار ئې ګرځوی.

كَلَّآ إِنَّ الْإِنْسَانَ لَیَطْغٰىٓ ﴿۶﴾ أَنْ رَّاٰهُ اسْتَغْنٰى ﴿۷﴾

رښتیا ده دا خبره بیشکه انسان خامخا سرکشی کوی د دی لامله (له وجی) چه وینی. ګنی خپل ځان بی پروا (په مال سره).

تفسیر : یعنی د بنی آدم اصل خو هم دومره دی چه له ترلی وینی څخه جوړ دی چه په اول کښې محض جاهل وی وروسته الله تعالیٰ ورته پوه ورکوی مګر دی پخپل اصلی حقیقت باندی هیڅ نه پوهیږی د دنیا په مال او دولت باندی مغروریږی او د الله تعالیٰ له احکامو څخنی سر غړوی او داسی ئې ګڼی چه زه د هیچا پروا نه لرم.

إِنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ الرُّجْعَىٰ ﴿٨﴾

بیشکه رب ستا ته (ای انسانه) بیرته ورتلل دی (د هر چا په آخرت کښې او هلته پکاریږی ښه اعمال نه اموال).

**تفسیر :** یعنی په اول کښې هم همغه الله تعالیٰ ای انسانه ته ئی پیدا کری ئی او آخر ته هم د همغه په لوری په آخرت کښې ستا ورتګ دی او هلته به د دغو طاغیانو منکرانو تکبر او لوئی او د ځان هیرولو حقیقت ښکاریږی.

أَرَأَيْتَ الَّذِي يَنْهَىٰ ﴿٩﴾ عَبْدًا إِذَا صَلَّىٰ ﴿١٠﴾

آیا وینی ته هغه (ابوجهل) چه منع کوی بنده (محمد) کله چه لمونځ کوی.

**تفسیر :** یعنی دا تمرد او سر غړول وګوره چه دی پخپله هم د خپل پروردګار په دربار کښې سر نه ښکته کوی او د عبادت توفیق ئی ور په برخه نه دی نو که بل بنده الله تعالیٰ ته سجده ږدی هغه ته هم کتی نه شی. په دی آیتونو کښې لعین ابوجهل ته اشاره ده ځکه چه هغه به کله رسول الله صلی الله علیه وسلم په لمانځه کښې لید نو خپله خوله به ئی شلوله او تخویف او تهدید به ئی کاوه او زیار (کوشش) به ئی کوو چه هغوی ته په هر ډول (طریقه) چه وی څه نه څه ضرر ورسوی.

أَرَأَيْتَ إِن كَانَ عَلَى الْهُدَىٰ ﴿١١﴾ أَوْ أَمَرَ بِالتَّقْوَىٰ ﴿١٢﴾ أَرَأَيْتَ إِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿١٣﴾

آیا وینی ته که چیری وی (دا بنده) په لاری سمی صافی باندی. یا امر حکم کوی خلقو ته په تقویٰ سره. آیا وینی ته که (دا منع کوونکی) تکذیب (د رسول الله) کوی او مخ ګرځوی له ایمانه (نو جزاء به مومی سم له خپل حال او اعمال سره.)

**تفسیر :** یعنی که په ښه لاره تللی او ښی چاری ئی زده کولی نو ځکه ښه سری به کیده اوس چه مخ ئی اړولی دی نو څمونږ ئی څه خراب کری دی؟ هم داسی ئی لیکلی دی په «موضح القرآن» کښې. نورو مفسرینو د دی آیت په تفسیر کښې نوری خبری هم لیکلی دی که څوک غواړی چه په هغه باندی وپوهیږی نو نورو تفاسیرو ته دی رجوع وکری په تیره بیا «روح

المعانی» دی ولولی.

أَلَمْ يَعْلَم بِأَنَّ اللَّهَ يَرَىٰ ﴿١٤﴾

آیا نه پوهیږی دغه (منکر کافر) په دی چه بیشکه الله وینی (اعمال د ده نو جزاء به پری ورکړی).

**تفسیر** : یعنی د هغه رټلی ملعون هغه شرارتونه او د دی ښه بنده دا خشوع او خضوع دواړه پاک الله وینی.

كَلَّا لَئِن لَّمْ يَنتَهِ لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ ﴿١٥﴾

داسی نه ده وړ (لائق) قسم دی که نه شو منع دی (له بد عمله) نو خامخا به ئی سخت راکاږو په ویښتو د وچولی (تندی) سره.

**تفسیر** : یعنی پریږده ! هغه منکر کافر په دغو ګردو (ټولو) خبرو باندی ښه پوهیږی خو بیا له خپل شرارت څخه لاس نه اخلی ښه اوس نه غوږ ونیاسه! که دوی له خپلو شرارتونو څخنی لاس وانه خیست نو مونږ به هم هغوی لکه بودګان (خاروی) او ذلیل بندیانو غوندی د وچولی (تندی) له ویښتو او څنو څخه نیولی د دوزخ په لوری ئی راکاږو.

نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ ﴿١٦﴾

په داسی وچولی (تندی) سره چه دروغجن خطا کار دی (خاوند ئی).

**تفسیر** : یعنی د هر چا په سر باندی چه دا څنی وی نو د هغه سر به له دروغو او ګناهونو څخنی ډک وی ګواکی د هغوی ګناهونو او دروغو به د هغوی د سر په ویښتو کښی سرایت کړی وی.

فَلْيَدْعُ نَادِيَهُ ﴿١٧﴾ سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ ﴿١٨﴾

پس راودی بولی اهل د مجلس خپل ژر ده چه مونږ به هم راوبولو ملائکی سختی د عذاب.

**تفسير** : يو څلي ابوجهل وليد چه حضرت رسول الله صلى الله عليه وسلم لمانځه ته رهي (روان) دی نو په مخ کښې ئې ورته ودريد او غوښت ئې چه دوی له لمانځه څخه ستون (واپس) کړی دوی په سختئ سره ورسره خبری وکړی نو هغه وويل «ته خبر نه ئې چه په مکې کښې څما جرګه لويه ده» نو دلته داسي فرمايلي شوی «چه اوس هغه د خپلی جرګی ملګری دی وغواړه چه مونږ د هغوی د هيداد او سزا ورکولو ته د عذاب ملائکې راغواړو وليده شي چه څوک بريالی (کامياب) کيږی» لکه چه څو ورځې وروسته د «بدر» په ډګر کښې ئې وليد چه د اسلام مجاهدينو به په څه ډول (طريقه) هغه راکشاؤ د «بدر» په «قليب» او کوهي کښې ئې وغورځاوه دا و د هغه عارضي کشول خو اصلي راکشول به ئې د آخرت په ميدان کښې وی چه د دوزخ پرښتې به هغه په ډير ذلت سره راکشوی او په جهنم کښې به ئې غورځوی. وائی چه يوه ورځ ابوجهل رسول اکرم صلى الله عليه وسلم په لمانځه کښې وليد وئ غوښت چه له هغوی سره څه بی ادبی وکړی دی لا څمونږ پيغمبر صلى الله عليه وسلم ته نه و نژدی شوی چه په ويره او بيره (تلوار) بيرته په منډو شو خلقو پری وخندل او ورته وی ويل چه «ولی وتښتيدی»؟ ده وويل «څما او د محمد صلى الله عليه وسلم په منځ کښې د اور يو خندق راښکاره شو چه په کښې ډير يو ويرووونکی سری ؤ نو څکه ووبريدم او بيرته راغلم» رسول الله مبارک وفرمايل که «دی لږ څه وړاندی کيده نو د هغو پرښتو له لاسه به توتی توتی کيده» ګواکې له آخرت څخه په مخ کښې د «سندع الزبانية» يوه وړوکی نمونه په دنيا کښې ورښکاره شوه.

**تنبيه** : زيات مفسرين د «زبانية» تفسير د دوزخ په پرښتو باندی کوی.

كَلَّا ۖ لَا تُطِعْهُ وَاسْجُدْ وَاقْتَرِب ۩ ﴿١٩﴾

نه ده داسې لکه چه وائی، مه وړه فرمان د ده او سجده لمونځ کوه او نژدی شه (الله ته په طاعت سره).

**تفسير** : يعني تاسې د هغوی پروا هيڅ ونه کړئ! او د هغوی خبرو ته غوږ مه ږدئ! چيری مو چه زړه شي په ډيره خوښئ سره د الله تعالیٰ عبادت کوئ! او هر کله چه د هغه لوی دربار ته په سجده سر ږدئ! او د هغه پاک ذات قرب او لا نژديوالی څان ته ګټئ! په حديث کښې دی. «بنده له ګردو (ټولو) حالتو څخه په سجده کښې زيات خپل الله تعالیٰ ته نژدی کيږی»

**تمت سورة العلق بفضل الله تعالیٰ ومنه وكرمه**

سورة القدر مكية وهى خمس آيات وفيها ركوع واحد رقم تلاوتها (۹۷) تسلسلها حسب النزول (۲۵) نزلت بعد سورة «عبس»

د «القدر» سورت مكى دى (٥) آيت يوه ركوع لرى په تلاوت كښى (۹۷) په نزول كښى (۲۵) سورت دى وروسته د «عبس» له سورته نازل شوى دى.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ۝

شروع كوم په نامه د الله چه ډير زيات مهربان پوره رحم لرونكى دى

إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةِ ٱلۡقَدۡرِ ﴿١﴾

بيشكه مونږ نازل كړى مو دى دغه (تول قرآن) په شپه د قدر كښى.

**تفسير :** يعنى قرآن كريم له لوح محفوظ څخه د دنيا پر آسمان د قدر په شپه كښى نازل كر شو. او ښائى په هم دغى شپى كښى د دنيا له آسمان څخه په محمد صلى الله عليه وسلم باندى ئى هم نزول شروع شوى وى. په دى موضوع څه مضمون د (دخان) په سورت كښى ليكلى شوى دى هلته دى ولوست شى.

وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ ﴿٢﴾ لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ خَيۡرٞ مِّنۡ أَلۡفِ شَهۡرٖ ﴿٣﴾

او څه شى پوه كړى ئ ته (اى محمده!) چه څه ده شپه د قدر (د عزت او شرافت له پلوه؟) شپه د قدر خير غوره ده له زرو مياشتو څخه (هغه زر مياشتى چه پكښى نه وى دغه شپه هغه چا لره چه ئى بيامومى او په عبادت سره پكښى مشغول شى تر صباح پورى).

**تفسير :** يعنى په دى شپى كښى نيكى كول داسى دى لكه چه تر زرو مياشتو پورى سرى نيكى كړى وى بلكه زيات له دى څخه هم.

تَنَزَّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ فِيهَا بِإِذۡنِ رَبِّهِم

نازليږى ملائكى او روح په دغه شپه كښى په اذن حكم د رب د هغوى.

**تفسير :** يعنى د الله تعالىٰ په حكم روح القدس حضرت جبريل عليه السلام د ډيرو پرښتو په

هجوم کښې رانازلیږي تر څو په دې عظیم الشان خیر او برکت سره د ځمکې خلق مستفیض کړي. ممکن دی له «روح» څخه برسیره پر ملائکو کوم بل مخلوق مراد وي په هر حال په دې بختورې شپې کښې د باطني ژوندون او روحاني خیر او برکت یو خاص نزول وي.

مِّن كُلِّ أَمْرٍ ﴿٤﴾ سَلَـٰمٌ

دپاره د هر کار (تاکلي «مقرر» شوي په دغه راتلونکي کال کښې) امان سلامتیا ده (له هر افته).

**تفسیر :** یعني د عالم د نظام په نسبت کوم کارونه چه په دې کال کښې مقدر وي د هغو د نفاذ د تعیین دپاره پرښتې راځي لکه چه د (دخان) په سورت کښې ولیکل شو. یا له (من کل امر) څخه به د خیر امر مراد وي یعني له آسمان څخه هر راز (قسم) د خیر امور له ځان سره اخلي او د ځمکې په لوري راښکته کیږي. والله اعلم

(سلام: امان سلامتیا ده له هر آفته یا نه ده دغه شپه مګر خو سلامتیا ده له آفاتو او بلیاتو نه) یعني هغه شپه د امن، هوسائی (آرام)، ډاډیني (تسکین)ن او د زړه خوښي شپه ده په دغې شپې کښې د الله جل جلاله خاص بندګان په یوه عجیب او غریب طمانیت او لذت او حلاوت سره پخپلو عباداتو کښې مصروف او مشغولیږي او ډیر زیات خوند له هغه څخه مومي او دا د هغه خیر او برکت او نزول رحمت اثر دی چه د ډیرو پرښتو له راښکته کیدلو څخه په ظهور راځي. په ځینو روایتونو کښې راغلي دي چه «په دې شپه کښې جبریل علیه السلام او نوري پرښتې پر عابدانو او ذاکرانو صلواتونه او سلامونه لیږي» یعني د دوی په حق کښې د رحمت او د سلامت دعاوې کوي.

هِيَ حَتَّىٰ مَطْلَعِ الْفَجْرِ ﴿٥﴾

دغه شپه ده تر وقته د ختلو د صبا پورې (د سلامتیا فضیلت، برکت، کرامت).

**تفسیر :** یعني له ماښامه تر سحر پورې په ټوله شپه کښې هم دا سلسله جاري ده نو ځکه دا شپه له سره تر پایه (آخره) پورې مبارک او بختوره ده.

**(تنبیه):** له قرآن مجید څخه راڅرګندیږي (راښکاره کیږي) چه هغه شپه په رمضان شریف کښې ده. ﴿شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ﴾ او حدیث راښکاروي چه دا شپه د رمضان په وروستنۍ عشره کښې ده په تیره بیا د دې عشرې په طاقو شپو کښې د قدر شپې لټول په کار

دی بیا د طاق په شپو کښی د اویشتم په شپی باندی زیات گمان کاؤ شی والله اعلم ولی زیاتو عالمانو داسی تصریح کری ده چه د قدر شپه د تل دپاره په یوه عشره او په یوه نیته کښی نشی تاکلی (مقررولی) امکان لری چه په یو رمضان کښی یوه شپه او په بل رمضان کښی بله کومه شپه وی.

**تمت سورة القدر بفضل الله تعالىٰ ومنه وكرمه**

سورة البينة مدنية وهى ثمانى آيات وفيها ركوع واحد رقم تلاوتها (٩٨) تسلسلها حسب النزول (١٠٠) نزلت بعد سورة الطلاق.

د «البينة» سورت مدنی دی (٨) آیت (١) رکوع لری په تلاوت کښی (٩٨) په نزول کښی (١٠٠) سورت دی وروسته د «الطلاق» له سورت څخه نازل شوی دی.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

لَمْ يَكُنِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ وَالْمُشْرِكِيْنَ مُنْفَكِّيْنَ حَتّٰى تَاْتِيَهُمُ الْبَيِّنَةُ ﴿١﴾

نه ؤ هغه کسان چه کافران شوی دی له اهل د کتابو او له مشرکانو جلا (جدا) کیدونکی (له خپلو ملکو څخه بلکه سره متفق ؤ په حقانیت د محمد) تر هغه پوری چه راغی دوی ته حجت روښانه.

**تفسير** : له اهل الکتاب څخه یهود او نصارىٰ او له مشرکینو ځنی بت پرستان، اور پرستان، او نور کافران او هغه منکران مقصد دی چه د هغوی په لاس کښی کوم آسمانی کتاب نشته.
دغه گرد (تول) نه ؤ جلا (جدا) کیدونکی یو له بل نه په باب د محمد صلی الله علیه وسلم کښی بلکه تول متفق ؤ په حقوالی د ده باندی.

رَسُوْلٌ مِّنَ اللهِ يَتْلُوْا صُحُفًا مُّطَهَّرَةً ﴿٢﴾

چه رسول دی له طرفه د الله لولی دغه (رسول الله پر دوی) صحیفی پاکی کړی شوی (له باطله).

**تفسیر :** د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له بعثت څخه وړاندی د تولو ادیانو تابعین خراب او هر یو پخپلو غلطیو باندی مغرور ؤ او په دی وقت کښی دا پکار ؤ چه کوم حکیم، ولی، لوی عادل باچا یا کوم لوی سری دوی وپوهوی او په سمه لاره ئی راولی او دا کار ممکن نه ؤ تر دی چه داسی یو عظیم القدر پیغمبر رانشی چه له هغه سره د پاک الله مقدس کتاب او لوی مدد وی چه د څو کلونو په منځ کښی یو ملک د اسلام په نور ډک کړی او پخپل زبردست تعلیم او لوی همت او عزیمت سره د ګردی (تولی) دنیا مخ د وحدانیت او حقانیت په لوری وګرځوی لکه چه هغه الله تعالیٰ رسول او استاځی د پاک الله د کتاب په لوستلو راغی چه په پاکو پاڼو کښی ئی لیکلی شوی دی.

فِيهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ ۝٣

په هغوی کښی لیکلی شوی دی سم احکام (مضبوط کتابونه چه پکښی نشته هیڅ خطائی).

**تفسیر :** د قرآن کریم هر سورت ګواکی یو مستقل کتاب دی. یا دا مطلب چه هغه عمده کتابونه چه پخوا له دی نه راغلی دی، د هغوی ضروری مطالب په دی کتاب کښی شته یا به له «کتب قیمة» څخه مراد نور علوم او مضامین وی یعنی د هغو علومو مضامین پوره درست صحیح او ډیر مضبوط او معتدل دی.

وَمَا تَفَرَّقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ إِلَّا مِن بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَةُ ۝٤

او نه ؤ جلا (جدا) شوی (له خپلو ملکو څخه بلکه تول سره متفق ؤ په حقانیت د محمد) هغه کسان چه ورکړی شوی ؤ دوی ته کتاب مګر وروسته له هغه چه راغی دوی ته حجت روښانه (چه محمد دی یا قرآن).

**تفسیر :** یعنی په دی رسول او په دی کتاب کښی هیڅ ځای د شک او شبهی نشته خو سره له هغه اهل د کتاب عمداً عناد، ضد او مخالفت ورسره کوی نه د شک او شبهی له پلوه. دوی سره دوه ډلی شوی دی یو هغه چه پخپل ضد او انکار کښی تینګ ولاړ دی او بل هغه چه د حق او انصاف له لوری ئی په اسلام باندی یقین او ایمان راوړی دی ښه خو به دا وه چه په هغه پیغمبر

آخر الزمان باندی چه دوی د هغو په انتظار کښې ؤ ګرد (تول) سره ایمان راوړی ؤ او خپل ګرد (تول) اختلافات او شخړی به ئې له منځه ایستلی او ګرد (تول) به سره په یوه لاره کښې رهی (روان) کیدل مګر هغوی د خپلو عنادو او بدبختیو په سبب د وحدت او اجتماع په ځای په مخالفت او شقاق او نفاق کښې سره اخته شول کله چه اهل د کتاب داسی دی د ناپوهانو مشرکانو احوال به څه وی.؟

**تنبیه :** حضرت شاه عبد العزیز صاحب رحمة الله علیه دلته د «البینة» مصداق حضرت مسیح علیه السلام بولی یعنی کله چه حضرت مسیح علیه السلام ښکاره نبی له ځان سره راوړی یهودان د هغوی دښمنان شول او نصارىٰ هم په دنیوی اغراضو کښې اخته شوی په څو څو ډولو (طریقو) سره ئې ځانونه وویشل. مدعا دا چه د پیغمبر راتلل او د کتاب نازلیدل پرته (علاوه) د حق تعالىٰ له توفیقه کفایت نه کوی هومره د هدایت سامان چه سره راغونډ شی تر څو چه د هدایت توفیق له چا سره مل نه وی نو هغه به هم داسی خسارا او نقصان ګالی (مومی).

وَمَآ اُمِرُوٓا اِلَّا لِيَعۡبُدُوا اللّٰهَ مُخۡلِصِيۡنَ لَهُ الدِّيۡنَ ۙ حُنَفَآءَ

حال دا چه امر حکم نه و ورکړی شوی دوی ته په توریت او انجیل کښې مګر ورکړی شوی ؤ چه عبادت کوی دوی د الله په داسی حال کښې چه خالص کوونکی وی الله لره دین له شرکه او نفاقه په داسی حال کښې چه راګرځیدونکی وی له باطله حق ته (په لاره د ابراهیم پس څرنګه کافر کیږی په محمد باندی؟).

**تفسیر :** یعنی له هر راز (قسم) باطلو او دروغو څخه جلا (جدا) شوی خالص د واحد الله بندګی وکړی! او د حضرت حنیف ابراهیم علیه السلام په شان له هر چا او هری خوا څخه علاقه شکولی د همغه یوه مالک الملک بندګان شی! او د تشریع او د تکوین هیڅ یوه شعبه او څانګه او نور شیان مستقل او خپلواک (اختیارمند) ونه ګڼی

وَيُقِيۡمُوا الصَّلٰوةَ وَيُؤۡتُوا الزَّكٰوةَ وَذٰلِكَ دِيۡنُ الۡقَيِّمَةِ ؕ ۝۵

او (بل دوی مامور دی په دی چه) قائموی سم اداء کوی (سره له تولو حقوقو) لمونځ او ورکوی زکوٰة او دا (مامور به شیان) دین دی محکم (مستقیم چه هیڅ کوږوالی په کښې نشته).

**تفسیر :** یعنی دا شیان په هر دین کښې غوره او منلی شوی دی چه د هغو شیانو تفصیل هم

دغه پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم هم راکوی. بیا نو الله تعالیٰ ته دغه خبره ښه معلومه ده چه له داسی صافی ښوونې او تعلیم څخه ولی دوی ګرځی؟ او تری وحشت کوی؟.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِينَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا

بیشکه هغه کسان چه کافران شوی دی له اهل د کتابو او مشرکان وی به په اور د دوزخ کښې (په قیامت کښې) چه تل به وی دوی په هغه (جهنم) کښې.

**تفسیر :** یعنی د پوهی او د علم دعوی کوونکی که اهل الکتاب وی یا جاهل مشرکان کله چه حقانیت او وحدت څخه مخ واړوی او انکار تری وکړی د هغو ګردو (ټولو) پای (آخر) او انجام همغه دوزخ دی چه هیڅ کله به له هغه نه خلاصیږی.

أُولَٰئِكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ ﴿٦﴾

دا (خلق دی) هم دوی ډیر بد د خلقو.

**تفسیر :** یعنی له حیواناتو (بهائمو) څخه ډیر خوار ذلیل او خراب دی لکه چه د (فرقان) په سورت کښې داسی یو آیت لولو ﴿ إِنْ هُمْ إِلَّا كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ سَبِيلًا ﴾

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَٰئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ ﴿٧﴾

بیشکه هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه په دنیا کښې) دا (خلق دی) هم دی ډیر ښه د خلقو.

**تفسیر :** یعنی هغه کسان چه په ګردو (ټولو) رسولانو او کتابو باندی یقین کوی او په ښو کارونو کښې لګیا دی نو دوی ښه د خلقو دی تر دی چه د دوی زیاتره کسان له پرښتو څخه هم وړاندی کیږی.

جَزَآؤُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ جَنَّٰتُ عَدۡنٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ

جزاء عوض د دوی په نزد د رب د دوی جنتونه د ابدی هستوګنی دی چه بهیږی له لاندی (د مانیو او ونو) د هغو (د اوبو د شودو د شاتو او د پاکو شرابو) ویالی تل به وی دوی په هغو (جنتونو) کښی همیشه (تر ابده)، راضی به وی الله له دغو (مؤمنانو ښخه په طاعت سره).

**تفسیر :** یعنی د جنت د باغونو او ویالو ښخه برسیره د مولیٰ رضاء هم د دوی په برخه کیږی چه د خوښی اصلی روح هم دا دی.

وَرَضُواْ عَنۡهُۚ ذَٰلِكَ لِمَنۡ خَشِيَ رَبَّهُۥ ۝٨

او راضی به وی دوی له هغه (الله ښخه په ثواب) دا (درجه) هغه چا لره ده چه ویریدلی دی له ربه خپله.

**تفسیر :** یعنی دا لوړ (اوچت) مقام هر چا ته په لاس نه ورځی. او دا یواځی د هغو بندګانو برخه ده چه د خپل پروردګار له عذابه ویریږی او هغی شیانو ته هیڅ نه ورنژدی کیږی چه په هغو کښی د الله تعالیٰ د عصیان او نافرمانی تصور کیدی شی.

**تمت سورة «البينة» بفضل الله تعالىٰ ومنه وكرمه**

سورة الزلزال مدنية وهي ثماني آيات وفيها ركوع واحد رقم تلاوتها (٩٩) تسلسلها حسب النزول (٩٣) نزلت بعد سورة النساء.

د «الزلزال» سورت مدنی دی (٨) آیته (١) رکوع لری په تلاوت کښی (٩٩) په نزول کښی (٩٣) سورت دی وروسته د «النساء» له سورته نازل شوی دی.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

شروع کوم په نامه د الله چه دیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا ①

کله چه وخوځوله شي ځمکه په خوځيدلو سختو خپلو سره.

**تفسير :** يعني الله تعالیٰ به گرده (توله) ځمکه په سختو او خورا (ډير) ويروونکيو زلزلو او ريږديدلو سره وخوځوی چه د هغی له اغيزی او اثر څخه به هيڅ مانی او عمارت او هيڅ يو غر يا ونه او نور شيان پر ځمکه باندی روغ نه پاتی کيږی او گرد (تول) هسک (اوچت) او تيټ به سره برابريږی تر څو د حشر ميدان صاف او پاک او يو برابر وگرځی او دا گردی (تولی) پيښی به په قيامت د دوهمی نفخی د پو کولو په وخت کښی پيښيږی.

وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا ②

او د باندی راوباسی ځمکه درانه شيان له خپله منځه.

**تفسير :** يعني په دی وقت کښی ځمکه هر هغه شي چه د دی په منځ کښی وی لکه مړی، سره او سپين زر، لاجورد پيروزه، غمی او نور گرد (تول) د باندی غورځوی خو د دی مالونو او قيمت دارو شيانو اخيستونکی به څوک نه وی؟ گرد (تول) خلق به گوری چه په دغه ورځ کښی به هغه گران شيان چه تل به په هغو باندی جنگونه کيدل څومره بيقدره او بيکاره لويدلی وی.

وَقَالَ الْإِنْسَانُ مَا لَهَا ③

او وبه وائی انسان (منکر له بعثه) چه څه شوی دی دغه (ځمکی) لره (چه د باندی راوباسی مدفون خپل).

**تفسير :** يعني بنی آدمان وروسته د ژوندی کيدلو او زلزلی د آثارو له ليدلو څخه يا د هغو ارواحو د زلزلی په ترڅ کښی حيران پاتی شوی په حيرت سره به وائی «پر دی ځمکی باندی څه وشو؟ چه په دومره زور سره خوځيږی؟ او هر شي له خپله گيډی څخه د باندی غورځوی؟».

يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا ④ بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَىٰ لَهَا ⑤

په دغی ورځی کښی وبه وائی بيانوی به ځمکه خبری خپلی (خلقو ته که د خير وی که د شر). په سبب د دی چه رب ستا وحی امر حکم کړی دی دی ته (په ويلو بيانولو سره).

**تفسير :** يعني بني آدم چه څه ښه او بد کارونه د ځمکي په سر باندی کړی ؤ هغه ګرد (ټول) به ښکاره وی لکه چه وائي به هغه سړی په ما باندی لمونځ کړی ؤ هغه غلا کړی وه هغه ناحق وينه توئي کړی وه او داسی نوری خبری ګواکی د ننی ورځي په اصطلاح او ژبه داسی وبوهيږئ چه هر سړی چه هومره عملونه ئي په ځمکه باندی کړی وی د هغو ګردو (ټولو) ريکاردونه (ټکلی) به وی او د قيامت په ورځ کښي به د پروردګار په حکم په خبرو راځي او هر شي له لری ښکاری.

---

يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا ۙ

---

په دغی ورځي کښي به وګرځي خلق ټولی ټولی (له موقف يا له قبور نه په مختلفو اشکالو سره).

---

**تفسير :** يعني په هغی ورځي کښي به خلق له خپلو قبرونو څخه راوتلي د محشر په ډګر کښي په راز راز (قسم قسم) دلی جوړی کړی حاضريږی. يوه ډله به د شرابيانو وی بله ډله به د زناکارانو وی هم داسی د ظالمانو او غلو. علیٰ هذا القياس د نورو. يا دا مطلب چه خلق له حساب څخه خلاصيږی او د بيرته ګرځيدلو په وقت کښي څه دلی به ئي جنتيانی او څه به دوزخيانی وی چه هره يوه به پخپل لوری رهی (روان) کيږی.

---

لِّيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ ۝٦

---

دپاره د دی چه وښودله شي هغوی ته (جزاء د) عملونو د دوی.

---

**تفسير :** يعني د حشر په ميدان کښي به د هغوی عملونه ورښوولی شي تر څو بدانو ته يو راز (قسم) رسوائي او نيکانو ته يو راز (قسم) سرفرازی حاصله شي ممکن دی چه د عملونو له ورښوولو څخه د ثمراتو او نتائجو ورښوول مراد وی.

---

فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ ۝٧ وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ
ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ ۝٨

پس هغه څوک چه عمل کوی په اندازه د یوی ذری د خیر نیکی نو وبه وینی (جزاء د هغه) او هر هغه څوک چه عمل کوی په اندازه د یوی ذری د شر بدی نو وبه وینی (سزاء د هغه).

**تفسیر :** یعنی هر یوه ته د هغه د عمل ذره ذره ښه وی که بد د هغه په مخ کښی ایښوول کیږی او حق تعالیٰ به هره هغه معامله چه د هر عمل په نسبت اجرا کوی هغه به هم د هغوی له سترګو څخه تیروی.

**تمت سورة الزلزال بفضل الله تعالیٰ ومنه وکرمه**

سورة العادیات مکیة وهی احدی عشرة آیة وفیها رکوع واحد رقم تلاوتها (۱۰۰) تسلسلها حسب النزول (١٤) نزلت بعد سورة «العصر»

د «العادیات» سورت مکی دی (۱۱) آیته یوه رکوع لری په تلاوت کښی (۱۰۰) په نزول کښی (١٤) سورت دی وروسته د «العصر» له سورته نازل شوی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ○

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

وَالْعٰدِيٰتِ ضَبْحًا ① فَالْمُوْرِيٰتِ قَدْحًا ②

قسم دی په اسونو ځغلیدونکیو چه آواز ایستونکی دی له سینو څخه آواز پورته کول له ګیډو پس قسم دی په اسونو ایستونکیو د اور او رایستل په وهلو د سمانو تیږو (ګټو) لره.

**تفسیر :** یعنی په هغی تیږو (ګټو) یا تیږی (ګټی) لرونکی ځمکی باندی چه خپلی سوی (سمان او نوکان) وهی او اور پورته کوی.

فَالْمُغِيْرٰتِ صُبْحًا ③

پس قسم دی په لوټ کوونکیو باندی په وقت د صبا کښی.

**تفسير** : په عربو کښې عادت و چه په صباؤن کښې به ئې په لوټولو باندې لاس پورې کاؤ ترڅو د دوی د شپې له ورتګه دښمن خبر نشي او سحار ناڅاپه داړه واچوي او دا به ئې خپل څلميتوب او ميړانه (بهادري) ګڼله چه په شپې کښې په چا ور ونه لويږي.

فَأَثَرْنَ بِهِۦ نَقْعًا ﴿٤﴾

پس پورته کوی دغه (اسونه) په سمانو خپلو سره (په وقت د ځغليدو کښې) ګرد (په شاؤ خوا د دښمن).

**تفسير** : يعنې په داسې قوت او ګرنديتوب او چالاکۍ سره ځغليدونکي اسونه چه د ګهيځ (سحر) په وخت کښې کله چه د شپې د سړو او شبنم د رطوبت تولې دوړې او غبار ناست وی خو بيا هم د دې اسانو له سوو څخه ګرد او دوړې پورته شي.

فَوَسَطْنَ بِهِۦ جَمْعًا ﴿٥﴾

پس ننوځي دغه (اسونه) هغه وقت په منځ د تولې (د دښمنانو د دين کښې).

**تفسير** : يعنې په دې وخت کښې بې له ويرې او خطر د دښمن په فوج کښې ننوځي.
**تنبيه** : امکان لري چه د دې قسم له يادولو څخه اسونه مراد وی لکه چه ښکاره ده. او ممکن دی چه د مجاهدينو سواره مراد وی. حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليکي «دا په سورو غازيانو باندې قسم دی. له دې نه به بل کوم يو عمل لوی او لوړ (اوچت) وی چه سری د الله تعالىٰ په لاری کښې خپل ځان جاروی (قربانوی). او جواب د دغو پاس قسمونو دا دی.

إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لِرَبِّهِۦ لَكَنُودٌ ﴿٦﴾

چه بيشکه (کافر) انسان له ربه خپله خامخا منکر ناشکره (د نعمتونو) دی.

**تفسير** : يعنې د غازيانو سورو سر او ځان جارول (قربانول) د الله تعالىٰ په لاري کښې ورښيي چه وفادار او شکر ګزار بندګان داسې وی هغه سری چه د الله تعالىٰ ورکړی قوتونه د هغه په لاره او ځای کښې نه ښندی (قربانوی) نو وائی «هغه سری چه د حقيقی مالک ورکړی شويو قوتونو قدر نه پيژني او د هغه روزی خوری او د هغه د بی شمارو نعمتونو او بخششونو څخه شپه او ورځ متمتع او ګټی اخلی خو سره له هغه د هغه الله تعالىٰ امر نه منی نو هغه له بوده ؤ (ځارو)

څخه هم خوار او ذلیل، حقیر او ښکته دی. وګورئ یو ښه اس ته چه د هغه څښتن (خاوند) واښه او دانه ورکوی دا اس له دی پالنی څخه د خپل څښتن (خاوند) په وفاداری کښې خپل ځان ځاروی (قربانوی) او هر لوری ته چه سور اشاره ورته وکړی په همغه لوری درومی او ځغلی او له ډیرو منډو څخه پرشیږی او له خپلو سومو او د پښو نوکانو څخه دوړی او کله کله اور هم پورته کوی او په ډیر ازدحام او بیړی او تلوار په مری او سری او لوړو (اوچتو) او ژورو کښې ځان غورځوی. د مردکو په ورښت (د ګولو په باران) او د تورو، توپکو په منځ کښې ځغلی او د توپ، طیاری، تانګ او نورو وسلو څنې دومره نه ویریږی بلکه ډیر ځلی وفا لرونکی او روزلی شوی اسان (اسونه) د خپلو سرو د ژغورنی (ساتنی) لپاره خپل ځان هم په خطر کښې اچوی نو آیا انسان له داسی اسانو (اسونو) څخه څه عقل نه زده کوی؟ او نه پوهیږی چه پخپله انسانان هم یو لوی پالونکی لری چه ښائی د هغه د حکم منلو او وفاداری کښې د خپلو ځانونو او مالونو په ښندلو (قربانولو) کښې هر وقت حاضر او تیار اوسی. په رښتیا سره چه کافر انسان خورا (ډیر) بخیل ډیر ناشکر او نالائق دی تر دی چه د یوه اس او سپی په اندازه هم خپله وفاداری نشی څرګندولی (ښکاره کولی).

وَإِنَّهُۥ عَلَىٰ ذَٰلِكَ لَشَهِيدٌ ۝٧

او بیشکه دا (انسان) پخپلی دغی ناشکری خامخا شاهد کتونکی ګواه دی (یا هغه انسان هغه کار پخپل مخکښې کوری).

**تفسیر :** یعنی د سرښندونکی (جان نثار) مجاهدین او د هغوی د اسونو وفاداری او شکر ګزاری د هغوی تر سترګو لاندی دی خو بیا هم دا بی حیا ردی سترګی ګوری او له خپله ځایه نه خوزی.

**تنبیه :** مونږ د ترجمی په رعایت دا مطلب ولیکه. که نه ډیرو مفسرینو د دی جملی مطلب داسی اخستی دی. انسان پخپلی ناشکری باندی د حال په ژبه ګواه دی. دی دی لږ شانی د خپل زړه په غږ باندی هم غوږ کیږدی او وادی وری او متوجه دی شی چه زړه ئی ورته څه وایی؟ دا وائی چه آیا سره د دومره لورینی (مهربانی) او ښېګلوی (بخشش) ته ناشکر ئی. څینی اسلاف د (انه) ضمیر د رب په لوری اړوی یعنی د ده رب د هغه ناشکری او کفران ته ګوری.

وَإِنَّهُۥ لِحُبِّ ٱلْخَيْرِ لَشَدِيدٌ ۝٨

او بیشکه دا (انسان) په مینه محبت د مال کښې خامخا زیات قوی ډیر سخت دی.

**تفسیر :** یعنی حرص، طمع، بخل، امساک او نورو رذائلو هغه پروند ګرځولی دی د دنیا د زرو او مال په مینه کښې دومره ډوب شوی دی چه خپل حقیقی منعم ئې هیر کړی دی او نه پوهیږی چه وروسته له دی نه به ئې څه حال کیږی.

اَفَلَا يَعْلَمُ اِذَا بُعْثِرَ مَا فِی الْقُبُوْرِ ⑨ وَحُصِّلَ مَا فِی الصُّدُوْرِ ⑩

آیا پس نه پوهیږی (دا انسان) کله چه راپورته کړل شی راووځی هغه شی چه په قبورو کښې دی (مړی) او محقق راښکاره کړی شی هغه (عقائد او ارادی) چه په سینو د دوی کښې دی.

**تفسیر :** یعنی هغه وخت هم راتلونکی دی چه مړی به له خپلو هدیرو (مقبرو) څخه ژوندی ایستل کیږی او هغه خبری چه په زړونو کښې پټی دی ګردی (تولی) څرګندیږی (ښکاره کیږی) نو هلته به کتل کیږی چه له دی مال څخه څه ګټی اخیستی شی؟ او دا نالائق او کافر به څنګه ځانونه ژغوری (بچ کوی) که دا بی حیا په دی خبره باندی پوهیدی نو هیڅ کله به د مال په مینه کښې دومره نه ډوبیدل او داسی حرکتونه به ئې نه کول.

اِنَّ رَبَّهُمْ بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّخَبِيْرٌ ⑪

بیشکه رب د دوی په دوی باندی په دغی ورځی کښې خامخا ښه پوه خبردار دی (نو موافقه جزاء به پری ورکړی).

**تفسیر :** یعنی که څه هم د الله علم هر وقت د بندګانو پر پته او ښکاره باندی محیط دی خو برله پسی د ده علم او پوه پر بندګانو ظاهریږی او هیچا ته ځای د دی خبری نه پاتی کیږی چه له هغی څخه انکار وکړی.

**تمت سورة العاديات بفضل الله تعالىٰ ومنه وكرمه**

سورة القارعة مكية وهى احدى عشرة آية و فيها ركوع واحد رقم تلاوتها (۱۰۱) تسلسلها حسب النزول (۳۰) نزلت بعد سورة « قريش»

د «القارعة» سورت مکی دی (۱۱) آیته یوه رکوع لری په تلاوت کښې (۱۰۱) په نزول کښې (۳۰) سورت دی وروسته د « قریش» له سورته نازل شوی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع كوم په نامه د الله چه ډير زيات مهربان پوره رحم لرونكى دى

اَلْقَارِعَةُ ﴿١﴾ مَا الْقَارِعَةُ ﴿٢﴾ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الْقَارِعَةُ ﴿٣﴾

(هغه) ټكوونكى (د زړونو قيامت) څه ده هغه ټكوونكى (د زړونو قيامت). او څه شي پوه كړى ئى ته چه څه ده هغه ټكوونكى (د زړونو قيامت).

**تفسير :** له «القارعة» څخه مراد قيامت دى چه زړونه به له ويرى او فزع څخه سخت ټكانونه په كښى خورى او غوږونو ته د ډيرو سختو غږونو له اوريدلو څخه ربړ (تكليف) پيښيږى مطلب دا دى چه د قيامت د حادثى د دى ويرونكى منظرى او ننداړى څه بيان وكړ شى يواځى د هغو د ځينو آثارو او نښو څه خبرى لاندى ويلى كيږى چه له هغو څخه د هغى د شدت او د سختى اندازه لګولى شى.

يَوْمَ يَكُوْنُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوْثِ ﴿٤﴾

(ټكوى به زړونه) په هغه ورځ كښى چه ګرځى خلق لكه واړه ملخان خواره خواره كړى شوى (يو په بل ختونكى).

**تفسير :** يعنى هر يو به په يوه لورى په بى‌تابى او وارخطائى سره مندى وهى او ځغلى ګواكى دا تشبيه له وړو ملخانو سره د ضعف، كثرت، حركت، بى انتظامى او بى تابى له پلوه وركړى شوى ده.

وَتَكُوْنُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوْشِ ﴿٥﴾

او وبه ګرځى غرونه (له هيبته په دغى ورځى كښى) لكه وړى رنګينى شيندلى شوى (د نداف په لينده).

**تفسير :** يعنى لكه چه نداف او داندس پخپل ډيندت او لينده سره پنبه يا وړى (پشم) وهى او پرسوى ئى او له هغو څخه د حجم په لحاظ يو لوى شى جوړوى او بيا په يو يو كولو او لړ

ښورولو سره هغه الوځوی او یوه  خوا بل خوا ئی رغړوی هم داسی به د قیامت په ورځ کښی غرونه هم الوځی او سره متفرق کیږی به او په رنګ ورکړیو شویو وړیو سره به ئی ځکه تشبیه ورکړی شوی وی. چه هغه ډیر کمزوری او سپکی دی برسیره په دی د (فاطر) د سورت په څلورمه رکوع ځمونږ دغه تفسیر کښی د غرونو د رنګ اقسام هم ښوودلی شوی دی ﴿ وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌ بِيضٌ وَحُمْرٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَانُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٌ ﴾ .

فَأَمَّا مَن ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ ﴿٦﴾ فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴿٧﴾

پس هر څه هغه څوک چه درونډ شی (په دغی ورځی کښی) وزن (د عملونو یا اعمال) د ده نو هغه به وی په ښه ژوندون چه راضی به وی (په جنت کښی).

**تفسیر :** یعنی د هر چا عمل چه درونډ وی هغه به په هغی ورځی کښی په زړه پوری خوښی او هوسائی (راحت) او آرامی کښی وی. که کوم عمل په لیدلو کښی ډیر لوی عمل ښکاری خو په منځ کښی ئی د ایمان اغیزه (اثر) ، د اسلام اثر د اخلاص روح نه وی  نو هغه عمل د الله تعالیٰ په دربار کښی څه وزن او درونډوالی نه لری لکه چه د (کهف) د سورت په ۱۲ رکوع ۱۰۵ آیت ځمونږ دغه تفسیر کښی داسی راغلی دی ﴿ فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَزْنًا ﴾ .

وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ ﴿٨﴾ فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ ﴿٩﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا هِيَهْ ﴿١٠﴾ نَارٌ حَامِيَةٌ ﴿١١﴾

او هر څه هغه څوک چه سپک شی وزن (د عملونو یا اعمال) د ده نو مور د ده (ځای د اوسیدلو د ده) به هاویه وی او څه شی پوه کړی ته څه ده دغه (هاویه) اور دی خورا (ډیر) تود (چه منکران پکښی پړمخی غورځولی کیږی).

**تفسیر :** یعنی هغه عذاب چه په دغی طبقی کښی شته د ځینو سړیو په فکر کښی نشی راتلی نو بس دومره وپوهیږئ چه یو اور دی ډیر تود چه سره خوتیږی او داسی سوځوونکی دی چه د هغه په مقابل کښی بل اور ته تود نه وایه شی الله مو دی له دی اوره او له نورو ربړو (تکلیفونو) څخه پخپل فضل او مهربانی سره وساتی.

**تمت سورة القارعة**

سورة التكاثر مكية وهى ثمانى آيات وفيها ركوع واحد رقم تلاوتها (۱۰۲) تسلسلها حسب النزول (١٦) نزلت بعد سورة الكوثر.

د «التكاثر» سورت مکی دی (۸) آیات یوه رکوع لری په تلاوت کښی (۱۰۲) په نزول کښی (١٦) سورت دی وروسته د «الکوثر» له سورته نازل شوی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

اَلْهٰكُمُ التَّكَاثُرُ ۝١ حَتّٰى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ ۝٢

مشغول کړی یئ تاسی (له عبادته) فخر کولو (یو له بله په ډیر والی د مال اولاد او قام) تر هغه پوری چه ورشئ هدیرو ته (مړه شئ خښ شئ یا تر هغه پوری چه مړی هم شمارئ د ډیروالی لپاره).

**تفسیر :** یعنی د مال او د اولاد د کثرت او د دنیا د مال او د شتو حرص سړی په غفلت کښی اچوی نه د الله تعالیٰ د لورینی (مهربانئ) فکر ورته پریږدی چه راشی نه د آخرت په خیال کښی لویږی. پس شپه او ورځ په هم دی فکر کښی لګیدلی وی په هر ډول (طریقه) چه کیږی ښائی ځما مال او شته را زیات شی او کور کهول می له ګردو (تولو) کورنیو او کهولو څخه ښه او لوړ (اوچت) وی. لا دا د غفلت پرده له مخه ئی نه وی لری شوی چه مرګ ورته راورسیږی کله چه په قبر کښی کیښود شی نو هلته ورښکاریږی چه په سخت غفلت او هیره کښی لویدلی و او هغه شیان چه د څه مودی له پلوه د ده په سترګو کښی ښه ښکاریده وروسته له مرګه هغه ګرد (تول) د هیڅ بلکه د ده د ځان نقصان ثابت شو.

**تنبیه :** په ځینو روایتونو کښی چه الله تعالیٰ د هغوی په صحت باندی ښه پوهیږی راغلی دی چه یوه ورځ دوو قبیلو په خپلو منځونو کښی هری یوی په زیادت باندی فخر کاوٌ کله چه د مقابلی په وقت کښی د یوی قبیلی سړی د بلی قبیلی له سړیو څخه لږ وروو‌تل نو ئی وویل چه ځمونږ سړی په جنګ کښی مړه شوی دی ځئ چه لاړ شو هدیری (مقبری) ته او قبرونه ئی وشمیرو نو هلته به دا درښکاره شی چه ځمونږ سړی له تاسی ځنی څومره ډیر دی؟ او په مونږ کښی څومره نومیالی سړی تیر شوی دی؟ وروسته له دی وینا څخه د قبرونو په شمیرلو باندی ئی شروع وکړه. نو د دی غفلت او جهالت د تنبیه دپاره دا پاک سورت نازل شو په ترجمه کښی د دی دواړو مطلبونو ګنجائش شته.

كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ۝٣ ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ۝٤

نه ده داسي وړ(لائق) ! ژر ده چه پوه به شئ تاسي (پخپلي خطائي باندي) بيا بيخي داسي نه ده وړ (لائق) ژر ده چه پوه به شئ تاسي (پخپلي خطائي) باندي.

**تفسير :** يعني وګورئ به خو خو ځلي په تاكيد تاسي ته ويل كيږي چه ستاسي دا خيال صحيح نه دى چه «د مال او اولاد او نورو شتو ډيروالي په كار راتلونكى شي دى» عنقريب تاسي به ئي معلوم كرئ چه دا زائل او فاني شيزونه هيڅ كله د فخر او مباهلت لائق نه ؤ. بيا وپوهيږئ چه آخرت داسي يو شي نه دى چه له هغه څخه انكار يا غفلت وكړى شي په مخ كښي به تاسي ته دا درښكاره شي چه اصلي ژوندون عيش او هوسائي (آرام) په آخرت كښي ده او د دنيا ژوندون د هغي په مقابل كښي پرته (علاوه) له يوه خوب او خيال ځني بل شي نه دى. دا حقيقت ځينو خلقو ته لږ قدر په دنيا كښي څرګنديږي (ښكاره كيږي) خو وروسته د قبر له رسيدلو ځني او بيا په محشر كښي دا غوتى لا ډيرى ښى پرانيستلي كيږي.

كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ الْيَقِينِ ۝٥

نه ده داسي كه تاسي پوهيدلئ (په خرابي د عاقبت د تكاثر او تفاخر) په علم اليقين سره (نو داسي به مو نه كول).

**تفسير :** ستاسي دا خيال هر ګز صحيح نه دى كه تاسي په يقيني ډول (طريقه) او د صحيحو دلائلو په وسيله په دى خبرى پوهيدى چه د آخرت په مقابل كښي د دنيا شيان هيڅ دى نو هيڅ كله به مو غفلت نه كاوه.

لَتَرَوُنَّ الْجَحِيمَ ۝٦ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ الْيَقِينِ ۝٧

قسم دى چه خامخا وبه وينئ تاسي هرومرو (خامخا) دوزخ بيا به خامخا ووينئ تاسي هرومرو (خامخا) هغه (دوزخ) په ستركو د يقين سره.

**تفسير :** يعني د غفلت او د انكار نتيجه دوزخ دى او تاسي ضرور د هغه ليدونكى ئى ړومبى د هغه څه اثر «برزخ» كښي په نظر درشي بيا به ئى په آخرت كښي په پوره ډول (طريقه) ووينئ او عين اليقين به مو حاصليږى.

ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ ﴿٨﴾ ع

بیا به خامخا پوښتنې وشي له تاسي څخه هرومرو (خامخا) په دغي ورځې کښې له (حقائقو د) نعمتونو هوسایِنو (راحت) نه (چه درکړې ؤ تاسي ته په دنیا کښې).

**تفسیر :** یعني په هغه وقت کښې به وپوښتلې شي چه «اوس راوښیئ د دنیا د نعمتونو او د عیش او د هوسائی (آرام) حقیقت څرنګه ؤ؟ یا هلته پوښتل کیږی هغه ظاهری، باطني، آفاقي، انفسي، جسماني، روحاني نعمتونه چه ما تاسي ته په دنیا کښې عطاء کړې ؤ تاسي د هغه شکر او حق په څه ډول (طریقه) ادا کړی دی؟ او د خپل هغه حقیقي منعم په خوښولو کښې مو تر کوم ځای پورې سعی او زیار (محنت) ایستلی دی؟».

**تمت سورة «التكاثر» بفضل الله تعالىٰ ومنه**

سورة العصر مكية وهى ثلاث آيات و فيها ركوع واحد رقم تلاوتها (۱۰۳) تسلسلها حسب النزول (۱۳) نزلت بعد سورة الانشراح.

د «العصر» سورت مکی دی (۳) آیته یوه رکوع لری په تلاوت کښې (۱۰۳) په نزول کښې (۱۳) سورت دی وروسته د «الانشراح» له سورته نازل شوی دی.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

وَالْعَصْرِ ﴿١﴾ إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ ﴿٢﴾

قسم دی په عصر چه بیشکه انسان خامخا په زیان کښې دی (په صرف کولو د عمر سره په فانیه ؤ مطالبو کښې).

**تفسیر :** عصر زماني ته وائي یعني قسم په زماني باندې چه د انسان عمر هم په کښې داخل دی چه دا عمر د سعاداتو او کمالاتو د ګټلو دپاره یوه لویه پنګه (سرمایه) ده او پکښې عجائب او غرائب دی په اقسامو سره یا قسم دی د مازدیګر په وخت باندې چه د دنیوی کارونو او وضیفو

له پلوه یو ځان ته اهمیت او مشغولیت لری او د لمانځه اداء ئې سخته ده ځکه چه خلق مشغول وی په دنیوی کارونو خپلو کښې او د دیانت له سببه د خورا (ډیر) لوی فضیلت وقت دی تر دی چه حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی «د هر چا چه د (عصر) لمونځ فوت شی لکه چه د هغه ګرد (ټول) کور او د ژوندون شیان لوټ شوی وی» یا قسم دی ځما په پاکه زمانه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم باندی چه په هغی کښې د عظمی رسالت او کبری خلافت رڼا او نور ډیر ښه ځلیږی او بهتر او غوره ده له نورو زمانو څخه. او د «والعصر د قسم جواب دغه دی چه ﴿ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِیْ خُسْرٍ ﴾ بیشکه انسان خامخا په زیان کښې دی».

له دی څخه په زیات زیان څه وی چه د واوری خرڅوونکی غوندی د هغه د تجارت راس‌المال چه د هغه عزیز عمر دی شیبه په شیبه (لحظه په لحظه) لمبیږی که دی په دی ژر ورتګ کښې هیڅ یو داسی کار ونه کړی چه هغه یواځی د دی تللی عمر پنګه (سرمایه) وبللی شی یا ئې په درد وخوری بلکه یو ابدی او غیر فانی متاع او د تل دپاره د کار شی وګرځی نو زیان او خساره ئې خو زیاتیږی که تاریخ ولولی یا د خپل ژوندون پر واقعاتو باندی غور وکړی نو له لږ فکر کولو څخه به دا ورثابته شی هغه خلق چه د خپل وروستی او مستقبل وقت څخه بی پروا پاتی کیږی او یواځی په خیالی لذاتو کښې خپل وقت تیروی او د خپل عزیز عمر شیبی (لحظی) په غفلت، شرارت، لهو، لعب او نورو چټی (بیکاره) شیانو کښې خاوری ایری نه کړی هغه اوقات چه د مجد او شرف د تحصیل او د فضل او کمال د اکتساب دپاره وړ (لائق) او مناسب دی په تیره بیا هغه ښه پنګه (سرمایه) لرونکی اوقات چه د رسالت لمر خپل انتهائی عروج او پلوشی ته پکښې رسیدلی دی او دنیا ئې داسی رڼه کړی ده چه څاری (مثال) او نظیر ئې نشته که په غفلت او نسیان کښې تیر کړی شی نو وپوهیږئ چه له هغه څخه سخت زیان بل نشته هغه ښوک خوش نصیبه او بختور دی چه دا فانی عمر باقی او دا بیکاره ژوندون د کار وګرځوی او د آخرت دپاره پکښې جدوجهد وکړی او دا خورا (ډیر) ښه اوقات او عمده مواقع غنیمت وګڼی او تل د سعادت په کسب او د کمالاتو په تحصیل کښې کوښښ وکړی نو دا خلق هغه کسان دی چه د هغوی ذکر په ﴿ اِلَّا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ﴾ کښې راغلی دی.

اِلَّا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ ۙ۬ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ﴿۳﴾

مګر (خو زیانکاران نه دی) هغه کسان چه ایمان ئې راوړی دی او کړی ئې دی ښه (عملونه) او وصیت ئې کړی وی یو له بله په حقه سره چه ایمان دی او وصیت ئې کړی وی یو له بله په صبر (په طاعت او مصیبت او له معصیته).

**تفسير :** یعنی انسان ته د زیان په ژغورلو (ساتلو) کښې څلورو شیانو ته ضرورت دی. اول په الله تعالیٰ او په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی ایمان راوړل او د هغه په هدایاتو او وعدو باندی اخروی وی یا دنیوی پوره یقین لرل، دوهم د دی یقین اثر او اغیزه نه یوائی چه یواځی په قلب او دماغ پوری محدوده وی بلکه ښائی چه په جوارحو کښې هم څرګنده (ښکاره) شی او د هغه چاری او اعمال او ژوندون د ده د زړه هنداره وی، دریم دی پخپلی انفرادی اصلاح او فلاح باندی قناعت ونه کری بلکه د خپل قوم او ملک ګټی او اجتماعی مفاد هم ښائی د ده تر ګټنی او نظر لاندی وی! هر کله چه دوه مسلمانان سره وويني ښائی یو له بله سره په وړین (روڼ) تندی خبری اتری وکړی او په قول او فعل او هره معامله کښې پرته (علاوه) له دیانت او صفائی څخه بل کار نه کوی! او تل دی یو بل ته د صداقت، امانت تاکید وینا وکړی! څلورم هر یوه له ښائی چه تل بل ته دا وصیت او نصیحت کوی چه د حق په معامله او د شخصی او قومی اصلاح په لاره کښې چه هر څومره سختی او زیار (محنت) او ربړونه (تکلیفونه) وروپیش شی یا له طبعی مخالفی چاری په مخ ورته راشی دا ګردی (تولی) دی په پوره صبر او استقامت سره تحمل کړی او هیڅ کله دی پل د نیکی له لاری څخه کوږ نه پړدی! هغه خوش قسمت انسانان چه د دی څلورو اوصافو له لاری څخه قدم کوږ نه پړدی! هغه خوش قسمت انسانان چه د دی څلورو اوصافو جامع او لرونکی وی او دوی سره د خپل کمال د نورو په تکمیل کښې هم زیار (کوشش) کوی نو د هغوی نوم د دنیا په صفحاتو کښې تل ژوندی پاتی کیږی او هغه آثار چه دوی له خپل ځان څخه دلته پړدی هغه به تل د باقیات الصالحاتو په ډول (طریقه) د هغوی نومونه ژوندی او اجرونه ئی زیاتوی. فی الحقیقت دا مبارک سورت د دیانت خلاصه ده حضرت امام شافعی رحمة الله علیه فرمایلی دی «که له پاک قرآن څخه یواځی هم دا سورت نازل شوی وی نو د پوهانو بندګانو د هدایت دپاره هم کافی و» څمونږ اسلافو او پخوانیو لویانو به کله چه یو له بل سره لیدل نو د جلا (جدا) کیدلو په وقت کښې به ئی یو بل ته دا مبارک سورت اوراوه.

## تمت سورة «العصر» بفضل الله تعالیٰ ومنه وکرمه

---

سورة الهمزة مكية وهى تسع آيات وفيها ركوع واحد رقم تلاوتها (١٠٤) تسلسلها حسب النزول (٣٢) نزلت بعد سورة «القيامة».

د «الهمزة» سورت مکی دی (٩) آیت یوه رکوع لری په تلاوت کښې (١٠٤) په نزول کښې (٣٢) سورت دی وروسته له «القیامة» د سورت څخه نازل شوی دی.

---

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ○

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ ۝١

افسوس هلاک یا کنده د دوزخ یا خرابی ده هر غیبت گر عیب گر لره.

**تفسیر :** یعنی له خپل ځان څخه نه خبریږی او نور حقیر گنلی طعنی ورکوی او د هغوی په واقعی یا غیر واقعی عیبونو پسی لویدلی وی او لتوی ئی.

الَّذِي جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُ ۝٢

هغه (غیبتگر عیبگر) چه جمع کړی ئی دی مال او وار وار ئی شمیرلی او ذخیره کړی ئی دی.

**تفسیر :** یعنی طعنی ورکول او عیب لتول د تکبر منشأ ده او د تکبر سبب مال دی چه د حرص لامله (له وجی) ئی له هری خوا ځان ته راټولوی او بخیلان د حرص لامله (له وجی) هری خوا ته لاس او پښی اچوی او د بخل له سببه خپلی گټی شمیرلی ساتی او یو پول او پیسه تری نه خرڅ کوی. زیاتره بخیل مالداران داسی چه هغوی خپلی نغدی څو څو ځلی شمیری او حسابونه ئی جوړوی او له دی شمیرلو څخه هر ځلی بیل بیل خوند او مزه اخلی.

يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُ أَخْلَدَهُ ۝٣

گمان کوی چه بیشکه مال د ده به تل ژوندی لری دی.

**تفسیر :** یعنی له دی چارو څخه دا راښکاری چه لکه دا مال هیڅ چیری نه ورځنی جلا (جدا) کیږی بلکه تل به دی له ارضی او سماوی آفتونو څخه ساتی؟.

كَلَّا لَيُنْبَذَنَّ فِي الْحُطَمَةِ ۝٤

نه ده داسی (بلکه مړ به شی او خلاص به ئی نه کړی دا مال له عذابه) قسم دی چه خامخا وبه غورځولی شی هرومرو (خامخا) (دا جمع کوونکی) په هغه شی کښی چه ماتوونکی سوځونکی دی د هر شی.

**تفسیر :** یعنی دا خیال بالکل چتی (بیکاره) دی مال خو تر هدیری پوری هم له چا سره نه ځی نو وروسته له هغه به څه تری واخیست شی گرد (تول) مال او دولت به هم داسی پاتی وی او دا بدبخت به پورته کړی او په دوزخ کښی به ئی وغورځوی.
«حطمة» هغه سخت ماتونکی اور ته وایه کیږی چه هر شی سم د لاسه بی له لوگی او اوږدو لمبو څخه وسوځوی.

وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلْحُطَمَةُ ۝٥ نَارُ ٱللَّهِ ٱلْمُوقَدَةُ ۝٦ ٱلَّتِى تَطَّلِعُ عَلَى ٱلْأَفْـِٔدَةِ ۝٧

او څه شی پوه کړی ئې ته څه شی دی ماتوونکی سوځوونکی د هر شی. اور د الله دی بل کړی شوی هغه (اور) چه خیژی پر زړونو باندی (نو سوځوی ئی).

**تفسیر :** یعنی ښه وپوهیږئ چه دا اور د بندگانو نه دی بلکه د الله تعالیٰ بل کړی شوی اور دی او د هغه له کیفیته څه مه پوښتئ چه دا اور دیر پوه لرونکی دی گرد (تول) زړونه تر خپلی کتنی لاندی نیسی دا اور هر هغه زړه چه ایمان پکښی نه وی سوځوی او د ایمان دارو زړونو سره هیڅ کار نه لری. د هغه سوځیدل چه په بدن باندی لگیږی سم د لاسه زړه ته رسیږی بلکه یو بل دول (طریقه) سوځیدل به داسی وی چه له زړه څخه شروع شوی نور بدن ته سرایت کوی او سره له دی چه زړونه، ارواح او جسمونه سره گرد (تول) سوځیږی خو بیا به هغه مجرم نه مری او دا دوزخی به تل دا غوښتنه کوی «کاشکی مرگی راشی او ما له دی ربرو (تکلیفونو) څخه وژغوری (بچ کړی). خو د هغه دا هیله (امید) نه پوره کیږی. خدای مو دی له دی عذاب او نه نورو عذابونو څخه وساتی.

إِنَّهَا عَلَيْهِم مُّؤْصَدَةٌ ۝٨

بیشکه دا اور به په دوی باندی بند کړی شوی وی.

**تفسیر :** یعنی کافران په دوزخ کښی غورځول کیږی بیا د دوزخ وروته پری تړل کیږی او هیڅ د وتلو لار به نه وی تل به په هغه کښی پاتی او سوځیږی په تحقیق سره دا اور د دوزخ به په دی کفارو باندی بند کړی شوی وی.

فِيْ عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ ﴿٩﴾

په ستنو راښکليو شويو اوږدو سره.

**تفسير :** يعني د اور لمبې د اوږدو اوږدو ستنو په ډول (طريقه) پورته کيږي يا دا چه دوزخيان په اوږدو ستنو کښې سخت ترل کيږي چه د سوځيدلو په وقت کښې هيڅ ونښي خوځيدلى چه د دى خوا او هغې خوا له خوځيدلو د عذاب د څه سپکتيا توهم کيدى شي او ځينى وائى د دوزخ خوله په اوږدو اوږدو ستنو سره بنديږي چه له يوى خوا څخه بلى خوا ته راښکلى شوى وى والله اعلم.

**تمت سورة الهمزة بفضل الله تعالىٰ ومنه وكرمه**

سورة الفيل مكية وهى خمس آيات وفيها ركوع واحد رقم تلاوتها (١٠٥) تسلسلها حسب النزول (١٩) نزلت بعد سورة «الكافرون».

د «الفيل» سورت مکى دى (٥) آيات يوه رکوع لرى په تلاوت کښې (١٠٥) په نزول کښې (١٩) سورت دى وروسته د «الکافرون» له سورته نازل شوى دى.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع كوم په نامه د الله چه ډير زيات مهربان پوره رحم لرونکى دى

اَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِاَصْحٰبِ الْفِيْلِ ﴿١﴾

آيا نه و ليدلى تا نه ئى خبر چه څرنګه کار کړى و رب ستا له خاوندانو د فيل سره.

**تفسير :** يعني د فيل (هاتى) د خاوندانو سره هغه معامله چه ستاسى پروردګار وکړه هغه به ضرور تاسى ته معلومه وى ځکه چه دا واقعه د نبى کريم صلى الله عليه وسلم له باسعادت ولادت څخه څو ورځى پخوا شوى وه او د ډير شهرت له سببه چه د هر لوى او کوچنى (وړوکى) په ژبه يادېده او د دى قرب عهد او د تواتر په بناء الله تعالىٰ دا علم په رؤيت سره تعبير وفرمايه.

أَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ ﴿٢﴾

آیا نه ئی و گرځولی (هغه) کید مکر د دوی (په حق د نړولو د کعبې بلکه گرځولی ئی و) په گمراهی زیانمنی بطلان کښی.

**تفسیر** : یعنی هغو کسانو غوښتل چه د الله تعالیٰ کعبه ورانه او خپله مصنوعی کعبه ودانه کړی نو دا ونه شوه کیدی. او الله تعالیٰ د هغوی گردی (تولی) ترنی بیکاره او تول تدابیر ئی بی اثره وگرځول او د کعبې شریفې د تباهی د فکر له سببه دوی پخپله تباه او بیکاره شول.

وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيلَ ﴿٣﴾ تَرْمِيهِم بِحِجَارَةٍ مِّن سِجِّيلٍ ﴿٤﴾

او راوئی لیږل په دوی باندی مرغان تولگی تولگی. چه ویشتل ئی هغوی په کانو سره چه له ختو په اور پخو شویو څخه جوړ شوی ؤ.

**تفسیر** : د اصحاب فیل لنده قصه دا ده د حبشی د تولواک (باچا) له خوا په یمن کښی یو (ابرهه) نامی حاکم مقرر و هغه ولید چه د عربو گرد (تول) خلق کعبې شریفې ته ځی او هلته حجونه کوی نو وئی غوښتل چه د خلقو توجه ځان ته ورکش کړی. نو دا تدبیر ئی له ځان سره وسنجاوه (جوړ کړ)چه د خپل عیسوی دین په نامه یوه لویه کتبه (عبادتخانه) جوړه کړی چه د هر راز (قسم) تکلفاتو او د راحت او هوسائی (آرام) او ساعت تیری اسباب پکښی غونډ کړی شوی وی او غوښت ئی چه په دی ډول (طریقه) به خلق اصلی کعبه پریږدی او د دی مکلفی او مرصعی عبادتخانی په لوری به راځی او د مکی د حج بیرۇ باړ به مات شی لکه چه د یمن په یو لوی ښار کښی ئی چه (صنعاء) نومیږی مصنوعی کعبه جوړه او ډیر مال او شته ئی پری خرخ کړی و خو سره له هغه هم خلق ورته متوجه نشول کله چه عرب په تیره قریش له دی خبری څخه خبر شول سخت خپه او په قهر شول ځینی په قهر شوی هلته اودس ماتی ته کیناستل ځینی وائی چه کوم عرب اور بل کړی و چه د هغه کوم بڅرکی الوتلی په هغی مانی کښی ولگید ابرهه له دی پیښی څخه ډیر په قهر شو او غوته ئی کړه چه پر کعبې شریفې باندی سره له ډیرو فوجونو او یو نومیالی هاتی چه (محمود) نومیده یرغل (حمله) وروړی او ورانه ئی کړی هغی عربی قبیلی چه په لاره کښی ئی له هغه سره مقاومت وکړ د هغوی له لاسه ماتی وکړه او اصحاب الفیل په ډیر قوت او سامانی سره مکی شریفې ته ورسیدل د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نیکه عبدالمطلب په دی وقت کښی د قریشو سردار او د کعبې شریفې لوی متولی و. کله چه دوی له دی پیښی څخه خبر شول وی ویل «خلقو! تاسی د خپلو ځانونو ساتنه وکړئ! د کعبې ساتنه به

هغه وکړی چه څښتن (مالک ) ئی دی» کله چه ابرهه پخپل مخ کښی هیڅ یو مانع ونه لیده نو یقین ئی راغی چه د کعبی ورانول اوس یو آسانه کار دی څکه چه څما پر مخ کښی هیڅ څوک مقابله کوونکی نه دی. کله چه مکی معظمی ته نژدی د «محسر» وادی ته ورسید چه د یوی کندی نوم دی نو د لوی سیند له لوری د شنو او ژیړو مرغانو کوچنی کوچنی (وړی وړی) دلی ورښکاره شوی چه د هغوی په مښوکو او منګلو کښی وړوکی کنکری وی چه جوړی شوی وی له ختو څخه په پخولو سره لکه خښتی یا قدرتی وی لکه کوتکانی دی عجیب او غریب مرغانو تولی تولی کنکری پر لښکر ورولی د الله په قدرت به دا د کنکرو ویشتل کټ مټ (هوبهو) لکه د توپکو پر هغوی باندی اثر او اغیزه کوله. او په هر چا چه لګیده له بلی خوا به ئی وتله او عجیب ډول (طریقه) بوسی ماده به ئی پریښوده ډیر ډیر لښکر ئی هلته مړه شول هغه چه وتښتیدل په نورو ربړو (تکلیفونو) سره اخته او پکښی مړه شول څینی وائی دا پیښه د حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم له ولادت څخه پنځوس ورځی پخوا شوی ده څینی وائی دا پیښه په هغی ورځی کښی شوی ده چه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم پکښی تولد شو. ګواکی دا یوه آسمانی نښه د دوی د بختور راتګ ده او یوه غیبی اشاره ده چه الله تعالیٰ د خپل کور او د بندګانو په فوق العاده ډول (طریقه) سره هم ساتنه کوی او د دی کور متولی هم له نورو څخه سره د خپل مقدس پیغمبر صلی الله علیه وسلم په ښه شان ساتی او دښمنانو ته هسی موقع نه پریږدی چه دوی کعبی شریفی یا د کعبی شریفی رښتینو خادمانو ته څه تکلیف او ضرر ورپیښ کړی.

---

فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ ۝٥

---

نو وئی ګرځاوه دغه لښکر په شان د وښو خوړلیو شویو پائمال کړیو شویو.

---

**تفسیر :** په شان د هغو وښو او پانو د فصل یا خوړلی شوی ګیاه چه غوائی، غوا، او نور حیوانات ئی خوری او پاتی ئی په اخور کښی وی یعنی داسی تیت او پرک (خواره واره) او منتشر بد صورت مبتدل بیکاره او تکر تکر شول لکه پاتی واښه د حیواناتو.

**تمت سورة «الفيل» بفضل الله تعالیٰ ومنه وکرمه**

---

سورة «قريش» مكية وهى اربع آيات و فيها ركوع واحد رقم تلاوتها (١٠٦) تسلسلها حسب النزول (٢٩) نزلت بعد سورة «التين».

د «قریش» سورت مکی دی (٤) آیته یوه رکوع لری په تلاوت کښی (١٠٦) په نزول کښی (٢٩) سورت دی وروسته د «التین» له سورته نازل شوی دی.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ○

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

لِاِیۡلٰفِ قُرَیۡشٍ ۝١ اٖلٰفِهِمۡ رِحۡلَةَ الشِّتَآءِ وَالصَّیۡفِ ۝٢ فَلۡیَعۡبُدُوۡا
رَبَّ هٰذَا الۡبَیۡتِ ۝٣ الَّذِیۡۤ اَطۡعَمَهُمۡ مِّنۡ جُوۡعٍ ۙ وَّاٰمَنَهُمۡ مِّنۡ خَوۡفٍ ۝٤

له جهته د انس او الفت د قریشو یو له بل سره له جهته د انس او الفت د دوی په سفر د ژمی (کښی یمن ته) او (په سفر د) اوړی (کښی شام ته هر کال) نو ښائی چه بندګی وکړی دوی رب د دی کوټی (کعبی) ته هغه (رب) چه طعام خواړه ئی ورکړی دی دوی ته په لوږی کښی او امن ئی ورکړی دی دوی ته له خوف ویری څخه.

تفسیر : یعنی په مکی کښی غله او نور خواړه نه پیدا کیده نو ځکه د قریشو داسی عادت و چه په هر کال کښی به دوی دوه ځلی سفر کاوه د ژمی په وقت کښی د یمن په لوری چه تود دی او په اوړی کښی د شام په لوری چه یخ او زرغون ملک دی. د هر ځای خلقو به دوی د اهل حرم او د بیت الله د خادمانو په نامه سره پیژندل او د دوی به ئی ډیر عزت او احترام او خدمت کاوه او د هغوی ځان او مال ته به ئی لاس نه غځؤ نو ځکه دوی به له دی تګ او راتګ څخه په زړه پوری ګټی اخیستلی او بیا په امن، اطمینان او ډاډینه (سکون) سره پخپلو کورونو کښی کیناستل، خوړل او خوړول به ئی. د حرم په شاؤ خوا کښی به د غلا ، داړی، لوټ او تالا شورماشور ؤ خو پخپله په حرم شریف کښی به د هغه د احترام په سبب قلاره قلاری وه او د قریشو خلقو په ډیرو هوسائیو (آرام) سره خپل ژوندون تیروه نو د هم دی انعام تذکره، یادونه دلته شوی ده چه د دی کور په طفیل می تاسی ته طعام او ډوډی درکړه! او امنیت، طمانیت سکون او هوسائی (آرام) مو دروبښله او د اصحاب الفیل له یرغل او تعرض څخه مو وساتلئ نو تاسی ولی د دی کور د څیښتن (خاوند) الله تعالیٰ بندګی نه کوئ؟ او د هغه استاځی (رسول) ته ولی ربړونه (تکلیفونه) پیښوئ آیا دا ډیره بی انتهاء ناشکری او احسان هیرول نه دی؟ که په نورو خبرو نه پوهیږئ نو د دی ښکاره حقیقت په منلو کښی چه پوهیدل ئی ډیر آسان دی ولی خپل ځانونه وراندی وروسته کوئ؟

**تمت سورة «قریش» بفضل الله تعالیٰ ومنه وکرمه**

سورة الماعون الثلاث الآيات الاول منها مكية وبقيتها مدنية وهى سبع آيات وفيها ركوع واحد رقم تلاوتها (۱۰۷) تسلسلها حسب النزول (۱۷) نزلت بعد سورة «التكاثر»

د «الماعون» سورت دری ړومبنی آیات مکی او نور ئی مدنی دی (۷) آیتونه یوه رکوع لری په تلاوت کښی (۱۰۷) په نزول کښی (۱۷) سورت دی وروسته د «التکاثر» له سورته نازل شوی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

أَرَءَيْتَ الَّذِي يُكَذِّبُ بِالدِّينِ ①

آیا وینی ته هغه څوک چه دروغ وائی په ورځی د جزاء باندی.

**تفسیر** : یعنی دغه مکذب کافر داسی وائی چه له سره عدل او انصاف به نه کیږی او د الله تعالیٰ له لوری به د ښو او بدو بدل نه ورکاؤ کیږی. ځینو د (دین) معنی «ملت» اخیستی دی یعنی د حق مذهب او اسلام ملت دروغ بولی ګواکی مذهب او ملت د هغوی په نزد هیڅ یو شی نه دی.

فَذٰلِكَ الَّذِي يَدُعُّ الْيَتِيمَ ②

نو (که ئی پیژنی هم دغه) همغه (څوک) دی چه رټی شړی یتیم پلار مړی لره (په شړلو قبیحو سره).

**تفسیر** : یعنی له یتیم او پلار مړی سره همدردی او خواخوږی څیری؟ بلکه له هغو سره په ډیره بیرحمی، غټ زړه توب، بداخلاقی معامله کوی او حق ئی نه ورکوی او اموال ئی له خپل ځان سره په ناحقه ساتی.

وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِينِ ③

نو نه کوی تیزول په طعام، خواړه ورکولو د مسکین باندی.

**تفسیر :** یعنی نه دوی پخپله د غریبانو او محتاجانو خبر اخلی او نه نورو ته ترغیب ورکوی. ښکاره دی چه د یتیمانو او محتاجانو خبر اخیستل او پر هغوی باندی رحم او زړه سوی کول د هر مذهب او ملت په تعلیم کښی شته او له هغو مکارمو اخلاقو څخه دی چه د هغو په ښه والی ګرد (تول) عقلاء او پوهان اتفاق لری نو هر سړی چه له دی ابتدائی اخلاقو څخه هم عاری وی ودی پوهیږی چه هغه سړی نه دی حیوان دی او داسی سړی له دین سره مینه نه لری او له الله تعالیٰ سره ئی علائق او اړیکی (رابطه) نه وی.

فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ ﴿٤﴾ الَّذِينَ هُمْ عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ ﴿٥﴾

پس هلاک افسوس کنده د دوزخ یا خرابی ده دپاره د لمونځ کوونکی هغه کسان چه دوی له لمانځه خپله غافله بیخبره وی (پخپلو اوقاتو او آدابو سره ئی نه اداء کوی).

**تفسیر :** یعنی نه پوهیږی چه لمونځ له چا سره مناجات دی؟ او د هغه مقصد څه دی؟ او د څومره اهتمام لائق او وړ (قابل) دی؟ دا به څرنګه لمونځ وی چه کله ئی نه کوی او کله ئی کوی. وقت او بی وقته پری ودریږی، په دنیوی چارو او خبرو کښی په لوی لاس وقت تنګوی او بیا ئی چه کوی هم یو څو تونګی وهی او دی ته هیڅ فکر نه کوی چه چاته مخامخ ولاړ یم؟ د احکم الحاکمین په دربار کښی په څه شان حاضری ورکوم؟ آیا الله تعالیٰ یواځی ناسته ولاړه سر په ځمکه لګول کږیدل وینی او (استغفر الله) ځمونږ زړونه وینی آیا په دی کښی د اخلاص او خشوع رنګ شته؟ په یاد ئی ولړئ چه دا ګرد (تول) صورتونه په ﴿عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ﴾ کښی درجه په درجه شامل دی لکه چه ځینو اسلافو په دی سره تصریح کړی ده.

الَّذِينَ هُمْ يُرَاءُونَ ﴿٦﴾

هغه کسان چه دوی ریاکاری کوی (په عمل خپل کښی، ښوونه کوی خلقو ته).

**تفسیر :** یعنی یو لمونځ څه بلکه د هغوی نور عملونه هم له ریاکاری او نمایش څخه تش نه وی ګواکی د دوی مقصد له خالق څخه سترګی اړول او د مخلوق خوښول دی.

وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ ۝٧

او منع کوی دوی مال د زکوٰة یا اسباب د معاونت امداد یو له بله.

**تفسیر :** یعنی زکوٰة او صدقات او نور میراث خو نه ورکوی بلکه معمولی شیان لکه لوښی، رسی، تبر، یوم، لور، غلبیل، اوبه، مالګه، اور، تار، ستن، او نور هم چا نه چه تری وئی غواړی نه ئی ورکوی چه د هغو ورکول په ګرده (توله) دنیا کښی یو عام رواج دی. کله چه د بخل دا حال وی نو له ریائی لمانځه څخه به څه ګټه (فائدة) واخلی که یو سړی ځان ته لمونځ کوونکی وائی یا وایه شی خو له خالق تعالیٰ سره خلوص او له مخلوق سره ئی همدردی نه لری نو د هغه د اسلام لفظ بی معنی او د هغه لمونځ له حقیقت څخه لری دی. ریاکاری او بد اخلاقی خو د هغو بدبختانو کار دی چه د الله تعالیٰ په دین او د جزاء په ورځ باندی څه اعتقاد نه لری.

**تمت سورة «الماعون» بفضل الله تعالیٰ ومنه وکرمه**

سورة الکوثر مکیة وهی ثلاث آیات وفیها رکوع واحد رقم تلاوتها (١٠٨) تسلسلها حسب النزول (١٥) نزلت بعد سورة العادیات.

د «الکوثر» سورت مکی دی (٣) آیتونه یوه رکوع لری په تلاوت کښی (١٠٨) او په نزول کښی (١٥) سورت دی وروسته د «العادیات» له سورته نازل شوی دی.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

اِنَّآ اَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَ ۝١

بیشکه مونږ درکړی مو دی تاته کوثر (ډیر خیر یا ویاله په جنت کښی).

**تفسیر :** یعنی په تحقیق سره ما درکړی دی تا لره ای محمده کوثر چه په وزن د (فوعل) دی په معنی د کثرت یعنی درکړی می دی تا لره خیر کثیر چه علم او نبوت، قرآن او شفاعت دی او چا ویلی دی چه «خیر کثیر» اولاد او اتباع دی او د محمدی امت علماء فضلاء دی هو! د «کوثر» معنی خیر کثیر دی یعنی ډیری ښیګڼی (فائدی) او بهتری. دلته له هغه څخه څه مراد دی په «البحر المحیط» کښی د ده په نسبت (٢٦) اقوال ذکر شوی دی او په آخر کښی ئی دی

ته ترجیح ورکړی ده چه تر دی لفظ لاندی ګرد (ټول) دینی او دنیوی دولتونه او حسی او معنوی نعمتونه داخل دی چه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم یا د هغوی په طفیل د هغه مرحومه امت ته رسیدونکی دی. له دی نعمتونو څخه یو لوی نعمت «حوض کوثر» هم دی چه په دی نامه په مسلمانانو کښی مشهور دی او د هغه په اوبو باندی به د قیامت په ورځ خپل امت اوبه کوی ای ارحم الراحمین! دا خطاء کاره او مخ توری هم له دی څخه سیراب کړی.

**تنبیه :** د «حوض کوثر» ثبوت د ځینو محدثینو په نزد د تواتر تر حد پوری رسیدلی دی نو ښائی چه هر مسلمان پری باور ولری!. په احادیثو کښی د هغه عجیبی او غریبی ښیګڼی (فائدی) بیان شوی دی په ځینو روایاتو کښی د هغه شته په محشر کښی او په ډیرو کښی په جنت کښی ثابتیږی. زیاتو علماؤ د هغه تطبیق داسی کړی دی چه پخپله دا نهر به په جنت کښی وی او د هغه اوبه د حشر ډګر ته هم راوستلی کیږی او په یوه حوض کښی تولیږی چه دواړو ته به «کوثر» وایه کیږی. والله اعلم بالصواب.

## فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ﴿٢﴾

### نو لمونځ کوه دپاره د رب خپل او قربانی کوه !.

**تفسیر :** یعنی د دومره لوی انعام او احسان شکر هم ښائی لوی وی. او ښائی چه پخپل روح او بدن او مال سره پوره د خپل رب په عبادت کښی مشغول او لګیا وی. په بدنی او روحانی عباداتو کښی له ګردو (ټولو) څخه لوی عبادت لمونځ دی او په مالی عباداتو کښی قربانی یو ممتاز حیثیت لری ځکه د قربانی اصلی حقیقت د خپل ځان جارول (قربانول) دی، د ساکښانو (ژاندارو) قربانی د هغه په ځای درول د ځینو حکمتونو او مصلحتونو په بناء شوی دی لکه چه د حضرت ابراهیم او اسمٰعیل علیهما السلام له قصی څخه ښکاره ده ځکه د انعام د سورت په شلمه رکوع ۱۶۲-۱۶۳ آیت کښی لمونځ او قربانی یو ځای داسی یاد شوی دی.

﴿ قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ لَا شَرِيكَ لَهُ وَبِذَٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ ﴾ .

**تنبیه :** په ځینو روایاتو کښی د «وانحر» معنی لاس په ټټر (سینه) باندی ایښودل راغلی دی مګر ابن کثیر رحمة الله علیه په دغو روایاتو باندی خبری کړی دی په پای (آخر) کښی ئی دی خبری ته ترجیح ورکړی ده چه د «نحر» معنی قربانی ده ګواکی په دی کښی پر مشرکانو باندی تعریض شوی دی چه هغوی عبادت او وینه تویول بتانو لره کوی او مسلمانان لمونځ او قربانی خاص واحد الله تعالیٰ ته کوی.

إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ ﴿۳﴾

بیشکه دښمن ستا همغه دی بې بنیاده له هره خیره منقطع.

**تفسیر :** ځینو کفارو به د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په شان کښې داسې ویل دا سړی ځوی نه لری نو تر څو چه ژوندی وی خلق به ئې نوم یادوی خو وروسته له مرګه به ئې څوک نوم اخلی داسې بې هلک سړی ته په محاوراتو کښې «ابتر» وایه کیده «ابتر» په اصل کښې لنډی «دم بریده» بوده (څاروی) ته وائې د هغه چا چه تر ده وروسته کوم نوم اخیستونکی پاتې نشی ګواکې د هغه لکۍ هم پرې شوی ده نو قرآن کریم دا راښیی هغه چاته چه الله تعالیٰ خیر کثیر عطاء فرمایلی وی تر ابد الاباد پورې د هغه نوم روڼ پاتې کیږی او هغه ته «ابتر» ویل خورا (ډیر) ډیر حماقت او ناپوهی ده په رښتیا سره هغه څوک چه داسې مقدسې او مقبولې هستی سره بغض عناد او عداوت ولری هغه له خپل ځانه وروسته څه د خیر ذکر او نیک اثر نه پریږدی. نن چه دیارلس سوه او اتیا کاله د حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم له بعثت څخه تیر شوی دی بیا هم ماشاء الله د هغه حضرت له روحانی اولاد څخه ګرده (تولهٔ) دنیا ډکه ده او جسمانی اولاده ئې هم د دوی د لونو له خوا ډیر زیاته په هر ملک کښې شته. د دوی د دین صالحه آثار په عالم کښې ځلیږی. د دوی یادول په ښه نوم محبت او عقیده سره د کروړونو انسانانو زړونو ته خوښی ښښی. دوست او دښمن تول د دوی د اصلاحی چارو ستاینه (صفت) کوی. او مونږ مسلمانان ئې د زړه له کومې حق او رښتیا بولو. پرته (علاوه) له دنیا څخه په آخرت کښې بیا په هغه مقام محمود کښې چه دوی به هلته ودریږی او هغه عامه مقبولیت او متبوعیت چه دوی ته علیٰ رءوس الاشهاد په برخه کیږی هم ځمونږ د افتخار ځای دی. آیا داسې دائم‌البرکت ذات ته «ابتر» ویل العیاذ بالله ښه کار دی؟ د دې خبرې په مقابل هغه ړدی سترګی ته چه دا خبره ئې له خولې څخه وتلې ده څیر شئ چه د هغه کم بخت نوم نښه نه ده پاتې او تر نن پورې ئې هیڅوک په ښه نوم هم په ژبه نه راوړی د ګردو (تولو) بې ادبانو حال به هم داسې وی چه هغوی کله نه کله ځمونږ پاک پیغمبر سره بغض او عداوت لاره یا به ئې له هغوی سره د بې ادبی کوم حرکت کاوه؟ او وروسته له دی به هم که څوک ځمونږ د مقدس رسول الله صلی الله علیه وسلم په نسبت څه بې ادبی وکړی حال به ئې هم داسې «ابتر» کیږی.

**تمت سورة «الكوثر» بفضل الله تعالیٰ ومنه وكرمه**

سورة «الكافرون» مكية وهی ست آيات وفيها ركوع واحد رقم تلاوتها (۱۰۹) تسلسلها حسب النزول (۱۸) نزلت بعد سورة «الماعون».

د «الکافرون» سورت مکی دی (٦) آیتونه یوه رکوع لری په تلاوت کښې (۱۰۹) په نزول کښې (۱۸) سورت دی وروسته د «الماعون» له سورت څخه نازل شوی دی.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ○

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

قُلۡ يٰۤاَيُّهَا الۡكٰفِرُوۡنَ ۙ﴿۱﴾

ووایه (ای محمده! چه) ای کافرانو .

**تفسیر :** د قریشو څو تنو غټانو وویل ای محمده! راځه چه مونږ او تاسی روغه سره وکړو تاسی تر یوه کال پوری ځمونږ د معبودانو عبادت وکړئ! بیا په دوهم کال کښی مونږ ستا د معبود عبادت کوو او داسی به هر یوه تولگی ته د بل تولگی له دین څخه څه برخه رسیږی. حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل «زه له الله تعالیٰ څخه له دی نه پناه غواړم چه د یوی ثانیی له مخی هم له هغه سره بل څوک یا شی شریک وگڼم» بیا ئی وویل «ښه نو تاسی ځمونږ د معبودانو مذمت مه کوئ نو مونږ به هم ستا د پیغمبری تصدیق او ستا د معبود ستاینه (صفت) کوو» نو په دی باندی دا سورت نازل شو چه حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د کفارو په لویه جرگه کښی ولوست چه د هغه خلاصه د مشرکینو له طور او طریقی څخه پوره بیزاری ښکاروی او د هغوی څنی د تعلقاتو د انقطاع اعلان او بیزاری څرگندوی (ښکاره کوی) هو! انبیاء علیهم السلام به چه د هغوی رومبنی کار د شرک د رگونو او ریښو ایستل دی په داسی ناپاکی رتلی روغی باندی څرنگه راضی کیږی فی‌الحقیقت د الله تعالیٰ په معبودیت کښی هیڅ یو مذهب لرونکی اختلاف او جگړه نه کوی بلکه پخپله مشرکان هم د خپلو بتانو په نسبت داسی وائی چه مونږ د دی بتانو عبادت ځکه کوو چه دوی مو د الله تعالیٰ په دربار کښی د نژدیوالی وسیله وگرځی لکه چه د «زمر» په اوله رکوع آیت ۳ ځمونږ دغه تفسیر کښی راغلی دی ﴿ مَا نَعۡبُدُهُمۡ اِلَّا لِيُقَرِّبُوۡنَاۤ اِلَى اللّٰهِ زُلۡفٰى ﴾ څه اختلاف چه دی پرته (علاوه) د الله تعالیٰ له عبادت څخه دی ځکه د روغی هغه صورت چه د قریشو له لوری وروړاندی شوی و د هغه ښکاره مطلب داسی و چه هغوی پوره پخپلو چارو باندی لکه پخوا ټینگ ولاړ دی یعنی د الله تعالیٰ او پرته (علاوه) له الله تعالیٰ د دواړو عبادت کوی او دوی دی د خپل توحید له مسلکه لاس واخلی نو د دی شخړی د روغی او د جگړی د پری کری دپاره دا سورت نازل شو.

لَاۤ اَعۡبُدُ مَا تَعۡبُدُوۡنَ ۙ﴿۲﴾ وَلَاۤ اَنۡتُمۡ عٰبِدُوۡنَ مَاۤ اَعۡبُدُ ۚ﴿۳﴾

نه کوم زه (فی الحال) عبادت د هغه شی چه تاسی ئی عبادت کوئ (ای

کافرانو چه بتان دی) او نه یئ تاسی (ای کافرانو فی الحال) عبادت
کوونکی د هغه ذات چه زه ئی عبادت کوم.

**تفسیر :** یعنی پرته (علاوه) له الله څخه د هغو معبودانو چه تاسی جوړ کړی دی زه اوس عبادت نه کوم او نه تاسی د هغه احد او صمد الله تعالیٰ عبادت بی د نورو له شرکت څخه کوئ چه زه ئی عبادت کوم او په راتلونکی زمانی کښی هم زه ستاسی د معبودانو عبادت نه کوم.

وَلَآ أَنَا۠ عَابِدٌ مَّا عَبَدتُّمْ ﴿٤﴾ وَلَآ أَنتُمْ عَٰبِدُونَ مَآ أَعْبُدُ ﴿٥﴾

او نه یم زه عبادت کوونکی (په وروستی زمانه کښی) د هغه شی چه عبادت
ئی کوئ تاسی (ای کافرانو) او نه یئ تاسی (ای کافرانو په وروستی زمانه
کښی) عبادت کوونکی د هغه ذات چه زه ئی عبادت کوم (چه الله دی).

**تفسیر :** یعنی وروسته له دی نه هم زه ستاسی د معبودانو عبادت کوونکی نه یم او نه تاسی ځما د دغه واحد معبود بی له شرکته عبادت کوونکی یئ مطلب ئی دا چه زه موحد یم له شرک څخه اوس او په راتلونکی زمانی کښی لری تښتم او تاسی سره له شرکته نه اوس او نه په راتلونکی زمانی کښی موحد کیدی شئ سم له دی تقریر سره په دی آیتونو کښی تکرار نه پاتی کیږی.

**تنبیه :** ځینی علماؤ دا تکرار پر تاکید باندی حمل کوی او ځینی په ړومبنیو دوو جملو کښی د حال او استقبال نفی او په وروستنیو دوو جملو کښی د ماضی نفی اخلی (کما صرح به الزمخشری) ځینو په ړومبنی دوو جملو کښی د حال او په وروستنیو دوو جملو کښی د استقبال اراده ښکاره کړی ده (کما یظهر من ترجمة شیخ الهند) لیکن ځینو محققینو په ړومبنیو دوو جملو کښی «ما» موصوله او په وروستنیو دوو جملو کښی «ما» مصدریه ګڼلی داسی وائی «ځما او ستاسی په منځ کښی نه په معبود کښی اشتراک شته او نه د عبادت په طریقه کښی. تاسی خو د بتانو عبادت کوئ چه هغوی ځما معبودان نه دی او زه د هغه الله تعالیٰ عبادت کوم چه د هغه په شان او صفت کښی هیڅوک شریک کیدی نشی او داسی واحد احد ستاسی معبود نه دی علی هذالقیاس تاسی څرنګه چه عبادت کوئ وئی کړئ! لکه چه بربند د کعبی په شاؤ خوا کښی ګدیږئ. یا د الله تعالیٰ د ذکر او د یادولو په ځای شپیلی وهئ زه داسی عبادت کوونکی نه یم او همغسی چه زه ئی عبادت کوم او په ډیره خشوع او خضوع سره ورته مخامخ کیږم تاسی د هغه توفیق نه لرئ نو ځکه ځما او ستاسی لاره بیخی جلا (جدا) ده. د دی حقیر په خیال کښی داسی راځی چه ړومبنی جمله ئی د حال او استقبال د نفی دپاره کیښوده شی یعنی زه نه اوس او نه په راتلونکی زمانه کښی ستاسی د معبودانو عبادت پرستش کولی شم لکه چه تاسی ئی

له ما څخه غواړئ او د ﴿ وَلَآ أَنَا۠ عَابِدٌ مَّا عَبَدتُّمْ ﴾ مطلب د (حافظ ابن تیمیة رحمة الله علیه) په وینا داسې واخیست شي کله چه زه د الله رسول یم دا ځما په شان کښې نشته او نه به مې کله ممکن شي په شرعي امکان چه د شرک مرتکب شم تر دې چه په تیرې زمانې کښې چه تاسې پخوا ځما له بعثته بتانو، تیږو (ګټو)، ونو او نورو ته عبادت کاؤ ما پرته (علاوه) له واحد الله تعالیٰ څخه د بل کوم شي عبادت نه دې کړې وروسته له دې چه د الله تعالیٰ له لورې د وحې، د بینات، د هدی، او د نورو ښوونو رنا خوره شوه کله ممکن دې چه زه په شرکیاتو کښې له تاسې سره مل شم. ښائي له هم دې سببه دلته په ﴿ وَلَآ أَنَا۠ عَابِدٌ ﴾ کښې اسمیه جمله او په ﴿ مَّا عَبَدتُّمْ ﴾ کښې د ماضي صیغه غوره شوې وي. پاتې شول د کفارو احوال نو د هغوی بیان ئې په دواړو جملو کښې یو شان وفرمایل ﴿ وَلَآ أَنتُمْ عَٰبِدُونَ مَآ أَعْبُدُ ﴾ یعنې تاسې اې کفارو! د خپلو بدو استعداداتو او انتهائي بدبختیو په سبب د دې وړ (لائق) نه یئ چه په هیڅ وقت او هیڅ حال کښې د واحد الله تعالیٰ بې له شرکته عبادت کوونکي شئ تر دې چه د روغې د خبرې په منځ کښې هم د شرک په چرت (خیال) کښې ډوب تللي یئ په یوه ځای کښې ﴿ مَا تَعْبُدُونَ ﴾ په صیغه د مضارع او په بل ځای کښې ئې ﴿ مَّا عَبَدتُّمْ ﴾ راوړل په صیغه د ماضي سره ښائي په دې لورې اشاره وي چه د هغوی معبودان هره ورځ بدلیږي هر هغه شي چه دوی ته عجیب معلوم شي یا کومه ښکلې تیږه (ګټه) یا ونه یا بل څیز ووینې سم د لاسه هغه د خپل معبود په ځای ودروي او هغه بل پریږدي د هر موسم او هر کار دپاره بیل بیل معبودان لري یو د سفر بل د حضر یو د دودې بل د اوبو یو د اولاد او بل د نورو وقس علیٰ هذا (حافظ شمس الدین ابن قیم رحمة الله علیه) په (بدائع‌الفوائد) کښې د دې سورت په لطائفو او نفائسو او مزایاؤ باندې ښې ویناوې کړې دي قرآني معارف لوستونکي ته ښائي چه خامخا د هغو کتنه وکړي!

---

لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِىَ دِينِ ﴿٦﴾ ع

---

تاسې لره دین ستاسې دی (د شرک) او ما لره دین (د توحید اسلام) ځما دی.

---

**تفسیر** : حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکي «یعنې هغه ضد به چه تاسې کړی دی څه فائده دررسوي تر څو چه الله تعالیٰ فیصله وکړي» اوس مونږ بالکل له تاسې څخه بیزاره یو او د هغې فیصلې په انتظار کښې یو او په هغه دین قویم باندې چه الله تعالیٰ مونږ ته مرحمت کړی دی دیر خوښ یو تاسې چه د خپلو ځانونو دپاره د بدبختۍ هغه تګ خوښ کړی دی هغه دې تاسې ته مبارک وي هر یو فریق ته به د هغه د دود او دستور او د راه او روش نتیجه پوره وررسیږي.

**تمت سورة «الکافرون» بفضل الله تعالیٰ ومنه وکرمه**

سورة «النصر» نزلت بمنیٰ فی حجة الوداع فتعد مدنية وهی آخر ما نزل من السور آياتها ثلاث وفيها ركوع واحد رقم تلاوتها (۱۱۰) تسلسلها حسب النزول (۱۱٤) نزلت بعد سورة التوبة

د «النصر» سورت په (منیٰ) په حجة الوداع کښې نازل شوی دی او په مدنی سورتونو کښې حسابیږی او وروستنی (۱۱٤) سورت دی په نزول کښې (۱۱۰) سورت دی په تلاوت کښې وروسته د «التوبة» له سورته نازل شوی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

إِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ ﴿۱﴾

کله چه راشی نصرت مرسته (مدد) د الله او فتح (د مکی).

**تفسير :** لویه فیصله کوونکی خبره دا ده چه مکه معظمه چه د حجاز مرکز او د اسلام ډیری نښې لری فتح شی د عربو د زیاترو قبیلو سترګی هغی ته وی پخوا له دی نه به یو یو دوه دوه سری په اسلام کښې داخلیدل خو د مکی معظمی له فتحی څخه وروسته ډلی ډلی داخلیدل تر دی حده پوری چه د عربو جزیره ګرده (توله) د اسلام په نور او رڼا رڼه او ګردو (تولو) هستیدونکیو ته ئې د توحید کلمه ولوستله او هغه مقصد چه عبارت د نبی کریم له بعثت څخه ؤ. پوره شو.

وَرَاَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُوْنَ فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ اَفْوَاجًا ﴿۲﴾ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ

او وینی به ته خلق چه ننوځی به دین د الله کښې فوج فوج ډلی ډلی پس تسبیح پاکی وایه سره د حمد ثناء د رب خپل.

**تفسير :** یعنی وپوهیږئ چه د بعثت مقصود او د دنیا د هستوګنی مطلب چه د دین تکمیل او د کبری خلافت تمهید دی پوره شو. اوس د آخرت سفر نژدی دی. نو ښائی چه له دنیا څخه ځان فارغ کړئ! او د زړه له کومی آخرت ته متوجه شئ! او له پخوا څخه زیاتره د هغه تسبیح او تحمید ووایئ او په دی فتوحاتو او بریو باندی د هغه شکر ادا کړئ او همیشه اوسئ په استغفار باندی.

وَاسْتَغْفِرْهُ ۚ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا ③ ع

او مغفرت ښښه وغواړه له ده څخه (لپاره د ګناهونو د امت خپل یا لپاره د ماتیدو د نفس او قصور د عمل) بیشکه چه دغه (الله) تل دی ښه توبه قبلوونکی د مستغفرانو ګنهګارانو.

**تفسیر :** یعنی ته ای محمد صلی الله علیه وسلم! ځان ته او خپل امت ته استغفار وغواړه. بیشکه چه دغه الله دی تل ښه توبه قبلوونکی.

**تنبیه :** د نبی کریم صلی الله علیه وسلم استغفار ځان ته پخوا له دی نه په څو ځایونو کښی تیر شو هلته دی وکوت شی! حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «یعنی په قرآن کریم کښی هر چیری د فیصلی وعدی دی او کافرانو د فیصلی تلوار کوله د رسول الله صلی الله علیه وسلم د عمر په آخر کښی مکه معظمه فتحه شوه ګردی (تولی) قبیلی له زړه مسلمانی شوی هغه وعدی ګردی (تولی) رښتیا شوی اوس نو د خپل امت د ګناهونو مغفرت او ښښنه وغواړئ! چه د شفاعت درجه دی لا لوړه (اوچته) شی. دا سورت د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په آخر عمر کښی نازل شوی دی چه هغوی د دی له لوستلو څخه په دی خبره وپوهید چه ما په دنیا کښی خپل دا راسپارلی شوی کار پای (آخر) ته ورساوۀ اوس نو د آخرت د سفر وار دی.

**تمت سورة «النصر» بفضل الله تعالیٰ ومنه وکرمه**

سورة « تبّت » مکیة وهی خمس آیات وفیها رکوع واحد رقم تلاوتها (۱۱۱) تسلسلها حسب النزول (٦) نزلت بعد سورة «الفاتحة».

د «تبّت» سورت مکی دی (٥) آیتونه (۱) رکوع لری په تلاوت کښی (۱۱۱) په نزول کښی (٦) سورت دی وروسته د «الفاتحة» له سورت څخه نازل شوی دی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ○

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ ①

مات هلاک دی شی دواړه لاسونه د ابی لهب او پخپله دی هم هلاک شه.

**تفسیر:** ابولهب چه نوم ئی عبد العزی بن عبد المطلب دی د حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم حقیقی تره و خو د خپل کفر او شقاوت له سببه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم ډیر سخت دښمن و، کله چه ځمونږ پیغمبر په کومه مجمع او ډله کښې د حق تعالیٰ کومه خبره ویله نو دی بدبخت به دوی پسې تیږو (ګټو) ویشتل او ډیر ځله له دی تیږو (ګټو) ویشتلو څخه د ده مبارک وجود ژوبلیده او وینی تری بهیدی ابی لهب تل به داسې چغې وهلې «ای خلقو! د دی سړی خبرو ته غوږونه مه ږدئ! چه معاذ الله دروغجن او بی دین دی» کله به ئی ویل «محمد له مونږ سره د هغو شیانو وعده کوی چه مونږ ته به پس له مرګه رسیږی مونږ د هغو شیانو په کیدلو باندی هیڅ باور نه لرو» بیا به ئی خپلو دواړو لاسو ته داسې ویل «تبا لکما اری فیکما شیئاً مما یقول محمد صلی الله علیه وسلم» تاسې دواړه رامات شئ چه زه به تاسې کښې د محمد صلی الله علیه وسلم له دغو ویلو شویو شیانو څخه هیڅ شی نه وینم» یو ځلی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د «صفا» په غونډی باندی ودرید او ګردو (تولو) ته ئی ورغږ کړ د دوی په غږ باندی ګرد (تول) خلق سره تول شول. دوی په ډیری مؤثری طریقی سره د اسلام دعوت شروع کړ (ابولهب) هم هلته و په ځینو روایاتو کښې دی چه د خپلو دواړو لاسو په اوچت غورځولو سره ئی وویل «تبا لک سائر الیوم أَلِهٰذَا جمعتنا: مات شئ آیا نن مونږ د داسې خبری د آوریدلو دپاره دلته سره راتول شوی یو؟» په روح المعانی کښې له ځینو څخه نقل شوی دی چه (ابولهب) پخپلو لاسو کښې تیږی (ګټی) اخیستی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لوری ئی وویشتلی او دا ئی ویل لنده ئی دا چه د (ابولهب) دښمنی او شقاوت او له حق سره عداوت تر انتهاء پوری رسیدلی و سره له دی کله چه د الله تعالیٰ له عذابه ویراوه کیده نو ویل به ئی «که چیری په رښتیا سره دا کار کیدونکی وی نو له ماسره مال او اولاد ډیر دی چه زه هغه ګرد (تول) په خپلی فدیی کښې ورکړم او ځان له هغو عذابونو څخه وژغورم (وساتم) د ده ښځی (ام جمیل) هم له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره سخته هنده او ضد او عداوت درلود (لرلو) او د ابولهب د دښمنی د اور پیلوځه (خشاک) وه لکه چه دغه ښځه د دغی دښمنی په اور کښې د ضد او عناد لرګی غورځول او هغه ئی لا پسې تیزاوه په دی سورت کښې د دوی دواړو انجام راښوولی شوی دی او داسې یوه تنبیه پکښې شته نر وی که ښځه، خپل وی که پردی لوی وی که وړوکی هر هغه کله چه د حق په عداوت باندی ملا وتری هغه بالاخر خوار او ذلیل او تباه کیږی لکه چه د پیغمبرانو ډیر نږدی خپلوان هم له هغه ذلت څخه ونه ژغورل (ساتل) شول (ابولهب) ته وګورئ چه د خپلو لاسو په خوځولو سره ئی ځمونږ د پاک پیغمبر پر خلاف خبری کولی او پر خپل زور او قوت باندی مغرور و او د الله تعالیٰ مقدس شریعت او د معصوم رسول الله صلی الله علیه وسلم پاک طریقت ته ئی لاس ورغځاوه څنګه ئی لاسونه ورمات شول او د هغه ګرد (تول) هغه کوښښونه چه د حق په پتولو کښې ئی کول ابته (خراب) شول او د هغه سرداری او لوئی د تل دپاره د ده له لاسه ووته ګردی (تولی) چارئی بیکاره شولی غرور ئی له سره ووت او له زوره ولوید او د تباهی په کنده

کښې پريوت. دا سورت مکی دی وائی چه د «بدر» له غزا څخه اووه ورځی وروسته په ده باندی يوه بده سوځوونکی او زهر لرونکی دانه وخته چه د هغی په سبب دی له کور او کهول څخه جلا (جدا) کړ شو او هيڅوک نه ورته نژدی کيدل تر دی چه همغلته مړ شو او مړی ئی تر دريو ورځو پوری هلته پروت و تر څو وپرسيد او خوړين شو دلته خلقو د حبشی مزدورانو په لاس په يوه لرګی کښې وتاړه او په يوه چوغالی کښې ئی چه چيری کنستلی شوی و لکه يوه مرداره ومنده او د دغه چوغالی سره ئی په تيږو (ګټو) او شګو سره پټ کړ شو دا خو د دنيا رسوائی او خرابی ده شکاره ده چه د آخرت ربړونه (تکليفونه) له دی څخه ډير سخت دی ﴿وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ أَكْبَرُ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ﴾ .

## مَآ أَغْنَىٰ عَنْهُ مَالُهُۥ وَمَا كَسَبَ ﴿٢﴾

دفع به نه کړی (دغه هلاکت) له دغه (ابی لهب) څخه (اصلی) مال د ده او هغه چه ده ګټلی و (يعنی اولاده ئی).

**تفسير :** يعنی مال، اولاد، عزت، وجاهت او لوئی هيڅ يوه ابی لهب له هلاکته ونه شو ژغورلی (ساتلی).

## سَيَصْلَىٰ نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ﴿٣﴾

ژر دی چه ننه به وځی (ابی لهب په قيامت کښې) په اور خاوند د لمبو کښې.

**تفسير :** يعنی وروسته له مړ کيدلو څخه ابی لهب ته سخت لمبی لرونکی اور رسيدونکی دی. ښائی په دی مناسبت قرآن کريم د عبد العزی کنيت ابی لهب ايښی وی، په دنيا کښې هغه ته ابی لهب ځکه ويل کيده چه د هغه د مخ بارخوګان لکه اور ځليدل مګر قرآن کريم دا راوښوول چه دی د خپل آخری انجام د اعتبار او پلوه هم د ابی لهب د ويلو وړ (لائق) دی.

## وَٱمْرَأَتُهُۥ حَمَّالَةَ ٱلْحَطَبِ ﴿٤﴾

او (ننه به وځی) ښځه د هغه (ابی لهب) اور ته په دی حال کښې چه بار راوړونکی به وی د خسو (د دوزخ).

**تفسير :** د ابی لهب ښځه ام جميل سره له مال داری ډيره بخيله او شومه وه نو ځکه دا به په

خپله ځنګل ته تله لرګی به ئی راوړه او اغزی به ئی تولول او څمونږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په لاره کښی به ئی د شپی له مخی اچول چه هغوی ته د تهجد د تګ او راتګ په وقت کښی ربړ (تکلیف) ورپیښ شی. فرمایلی ئی دی «دی لکه چه دلته د حق په دښمنی او د الله تعالیٰ د پیغمبر په ایذاء رسولو کښی د خپل میړه (خاوند) سره معاونت او مرستی (مدد) کولی په دوزخ کښی به هم هغه سره داسی مرستی (مدد) کوی» ښائی چه هلته به هم د زقوم او ضریع چه د دوزخ اغزی لرونکی ونی دی لرګی راوړی او د هغو په وسیله به د خپل میړه (خاوند) د عذاب اور لا تودوی لکه چه ابن کثیر رحمة الله علیه ویلی دی.

**تنبیه :** ځینو د «حمالة الحطب» معنی چغل ګر اخیستی دی لکه چه د عربو په محاورو کښی دا لفظ په دی معنی سره هم وایه کیږی او په پارسۍ کښی چغل ګر ته «هیزم کش» وایه شی.

فِیْ جِیْدِهَا حَبْلٌ مِّنْ مَّسَدٍ ۝۵

حال دا چه په غاړی د دی کښی رسی ده له مضبوطو رسیو (پتوکیو د خرماؤ) څخه.

**تفسیر :** یعنی ډیره کلکه او مضبوطه چوخیدونکی رسی. له دی څخه زیاترو مفسرینو د دوزخ اوسپنی غاړکی او سلاسل مراد اخیستی دی او دا تشبیه د ﴿ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ ﴾ په مناسب ورکړی شوی ده ځکه چه د لرګیو د بار ترلو کښی رسی ته ډیر ضرورت پیښیږی. لیکی چه د دی ښځی په غاړه کښی یوه خورا (ډیر) ښه قیمتداره غاړکی وه دی به ویل «په لات او عزیٰ باندی قسم خورم چه زه دا خپله غاړکی د محمد په عداوت باندی لګوم» نو ځکه ضرور دی چه په دوزخ کښی هم د هغی غاړی له هغسی یوی غاړکی څخه تشه نه وی عجیبه خبره لا دا ده چه د دی بدبختی مرګ هم داسی واقع شو چه د لرګیو د پیتی رسی د هغی په غاړه کښی چه په یوه ګټ باندی ئی دمه کیښوده غوټه شوه او غته تیره (ګټه) د دی او د پیتی په منځ کښی راغله او سا ئی وخته.

**تمت سورة «تبّت» بفضل الله تعالیٰ ومنه وکرمه**

سورة الاخلاص مکیة وهی اربع آیات وفیها رکوع واحد رقم تلاوتها (۱۱۲) تسلسلها حسب النزول (۲۲) نزلت بعد سورة «الناس»

د «الاخلاص» سورت مکی دی (٤) آیته یوه رکوع لری په تلاوت کښی (۱۱۲) په نزول کښی (۲۲) سورت دی وروسته د «الناس» له سورت څخه نازل شوی دی.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ○

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

قُلْ هُوَ اللهُ اَحَدٌ ۝١ اَللهُ الصَّمَدُ ۝٢

ووایه (ای محمده دوی ته) شان دا دی چه الله یو دی (په ذات او صفات خپل کښې) الله بی پروا دی (الله ته هر شی محتاج دی).

**تفسیر :** یعنی هغه کسان چه د الله تعالیٰ په نسبت پوښتی چه دی څنګه دی؟ تاسی ورته داسی ووایئ چه الله تعالیٰ یو دی! او د هغه په ذات کښې په هیڅ ډول (طریقه) د تعدد او تکثر او دوه‌ئیزتوب ګنجایش نشته او نه ئی څوک په مقابل کښې شته او نه مشابه لری په دی سره د مجوسانو عقیده رده شوه چه وائی خدایان دوه دی یو د خیر څیښتن (مالک) «یزدان» او بل د شر څیښتن (مالک) «اهریمن» دی او هم د هندوانو عقیدی تردیدی شوی چه هغوی د دری دیرشو کروړو بتانو منونکی دی او هغوی ته د خدائی په چارو کښې برخی ورکوی.
د «الصمد» تفسیر په څو ډوله (قسمه) کړی شوی دی چه (طبرانی) هغه ګرد (تول) نقل کړی وائی «**وکل هذه صحیحة وهی صفات ربناعزوجل هوالذی یصمد الیه فی الحوائج وهو الذی قد انتهی سؤدده وهو الصمد الذی لا جوف له ولا یأکل ولا یشرب وهو الباقی بعد خلقه**» دا ګرد (تول) رښتیا دی. او څمونږ الله تعالیٰ هغه لوی ذات دی چه هغه ته هر راز (قسم) اړتیاوی (احتیاج) وروړاندی کیږی او هر ډول (طریقه) مرستی (مدد) ورڅخه غوښتلی کیږی او د ګرد (تول) سترتوب (لویی) او د تولی مشرتیا صفت په کښې شته. نه خوری او نه څښی او نه چا ته محتاج دی او له خپلو مخلوقاتو څخه وروسته هم پاتی دی.»
ابن کثیر. د پاک الله د صمدیت له صفت څخه د هغو ناپوهانو رد هم وشو چه پرته (علاوه) له الله تعالیٰ څخه نور کسان هم واکوالان (اختیارمند) ګڼی یا د هغوی په پوره خپلواکی باندی عقیده لری د آریه ؤ د عقیدی تردید هم وشو څکه چه د دوی له اصولو سره سم د دنیا په پیدا کولو کښې روح او ماده لویه اغیزه (اثر) لری او دا دواړه شیان پخپل وجود کښې الله تعالیٰ ته اړ (مجبور) او محتاج نه دی (استغفر الله).

لَمْ يَلِدْ ۙ وَلَمْ يُوْلَدْ ۙ۝٣

نه ئی دی څېږولی (هیڅوک) او نه دی څېږولی شوی دی (له هیچا نه).

**تفسير :** يعني نه هيڅوک د ده اولاد دی او نه دی د چا اولاد دی له دی څخه د هغو عقائدو تردید هم وشو چه په هغو کښی حضرت مسیح علیه السلام یا حضرت عزیر علیه السلام د الله تعالیٰ ځامن بلل کیږی یا پرښتو ته د الله تعالیٰ لونی وائی او هم په ﴿ وَلَمْ يُولَدْ ﴾ سره د هغو عقیدو تردید وشو چه ځینی خلق مسیح یا نورو ته الله وائی یعنی د الله تعالیٰ دا شان دی چه څوک ئی نه وی ځیږولی او نه دی له بل چا څخه ځیږولی شوی وی او ښکاره خبره ده چه عیسیٰ علیه السلام د یوی سپین لمنی جینئ له نسه پیدا شوی دی نو هغه څنګه خدای کیدی شي؟.

وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدٌۢ ﴿٤﴾

او نشته دغه (الله) لره برابر سیال هیڅوک.

**تفسير :** کله چه هیڅوک د الله تعالیٰ سیال، شریک، برابر، مل نه وی نو د هغه ښځه او هلک او نور له کومه کیږی؟ له دی جملی څخه د هغو خلقو تردید وشو چه د الله تعالیٰ په ځینو صفتونو کښی کوم مخلوق هغه غوندی ګڼی تر دی چه ځینی رډ سترګی د الوهیت له دی ستاینی (صفت) څخه پوره ستاینی (صفت) هغو مخلوقاتو ته هم ورکوی. د یهودانو په کتابونو کښی ئی لیکلی دی چه د غیږو په یوی مسابقی کښی یعقوب علیه السلام په الله تعالیٰ باندی په غیږ کښی غالب شو (العیاذ بالله) ﴿ كَبُرَتْ كَلِمَةً تَخْرُجُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ إِن يَقُولُونَ إِلَّا كَذِبًا ﴾ **انی أسألک یا الله الواحد الاحد الصمد الذی لم یلد ولم یولد ولم یکن له کفواً احد ان تغفرلنا ذنوبنا انک انت الغفور الرحیم»**

**تمت سورة «الاخلاص» بفضل الله تعالیٰ ومنه وکرمه**

سورة الفلق مكية او مدنية وهی خمس آیات وفیها رکوع واحد رقم تلاوتها (١١٣) تسلسلها حسب النزول (٢٠) نزلت بعد سورة «الفیل»

د «الفلق» سورت مکی یا مدنی دی پنځه آیته یوه رکوع لری په تلاوت کښی (١١٣) په نزول کښی (٢٠) سورت دی وروسته د «الفیل» له سورت څخه نازل شوی دی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ﴿١﴾

ووايه (اى محمده) پناه غواړم په رب د صبا څيروونكى د تيارى باندى.

**تفسير :** يعنى هغه چه د شپى تياره څيروى او له هغى څخه د سهار انوار او رڼا ښكاروى.

مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ﴿٢﴾

له شره د هغه شى چه پيدا كړى ئى دى (له ضررناكو شيانو څخه).

**تفسير :** يعنى هر هغه مخلوق چه په هغه كښى څه بدى او شر وى زه د هغه له شر او بدى څخه پناه غواړم وروسته د دى ځاى په مناسبت د څو ځان ته څيزونو نومونه هم اخيستى شوى دى.

وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ﴿٣﴾

او له شره د تيارى شپى كله چه تكه توره شى (او هر شى پټ كړى).

**تفسير :** يعنى د شپى تياره چه په هغى كښى زياتره شرور او بدى پيښيږى په تيره بيا كودى (سحر) او نورى پيښى ديرى واقع او پيښيږى چه خوف يا د لمر لويده ترى مراد دى. حضرت شاه صاحب رحمة الله عليه ليكى «په دى كښى گردى (تولى) تيارى راغلى ظاهرى، باطنى، تنگه، پريشانى او گمراهى او نور.

وَمِنْ شَرِّ النَّفَّٰثَٰتِ فِي الْعُقَدِ ﴿٤﴾

او له شره د هغو ښځو ساحرانو پوكى كوونكيو چه پو كول كړى په غوټو كښى.

**تفسير :** له «النفاثات فى العقد» او پوكى كوونكيو نفسونو څخه هغه ښځى يا هغه دلى يا هغه نفوس مراد دى چه د سحر او د كودو د چارو كولو په وقت كښى پر كومى ژى يا مزى يا ويښته يا نورو باندى څه ولولى او پرى پو ئى كړى او غوټى پكښى واچوى هغه كودى چه لبيد بن اعصم ځمونږ پر پيغمبر صلى الله عليه وسلم باندى كړى وى په هغو كښى ځينى جونى هم گډى وى والله اعلم.

وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ ۝٥

او له شره د حسد کوونکی کله چه ښکاره کړی حسد خپل.

**تفسیر :** حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «کله چه د هغه نظر ولګیږی بیشکه» نظر او د سترګو تپ یوه واقعی او رښتیا خبره ده خو د ډیرو مفسرینو په نزد د «ومن شر حاسد اذا حسد» مطلب دا دی کله چه حاسد د خپل زړه کیفیت ضبط نه کړی شی او په عملی ډول (طریقه) سره خپل حسد ښکاره کړی نو د هغه له بدی څخه پنا غوښتل ښائی. که د یوه سړی په زړه کښی بی واکه حسد پیدا شی خو هغه خپل نفس پخپل ضبط او پخپل واک (اختیار) ساتی او له محسود سره د حسد وضعیت نه ښکاروی نو هغه له دی څخه وتلی دی. د حسد معنی دا ده چه د بل چا د ورکړی شوی نعمت زوال وغواړی البته داسی غوښتنه چه الله تعالیٰ ماته هم داسی نعمت یا زیات له هغه څخه ویښی چه هغه ته الله تعالیٰ ورکړی دی په رخی (کینه) او حسد کښی داخله نه ده او هغه ته (غبطه) وایه شی. د بخاری شریف په دی حدیث کښی چه د لاحسد الاقی اثنتین الخ» له حسد څخه هم دا غبطه مراد ده.

## تمت سورة «الفلق» بفضل الله تعالیٰ و منه وکرمه

سورة الناس مدنية او مكية وهی ست آيات وفيها ركوع واحد رقم تلاوتها (١١٤) تسلسلها حسب النزول (٢١) نزلت بعد سورة الفلق.

د «الناس» سورت مدنی یا مکی دی شپږ آیات یوه رکوع لری په تلاوت کښی (١١٤) په نزول کښی (٢١) سورت دی وروسته د «الفلق» له سورته نازل شوی دی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ۝١ مَلِكِ النَّاسِ ۝٢ إِلَٰهِ النَّاسِ ۝٣

ووایه (ای محمده) پناه غواړم په رب د تولو خلقو په باچا د تولو خلقو په معبود د تولو خلقو.

**تفسیر :** اګر که د الله تعالیٰ د ربوبیت شان او د باچاهی چاری پر تولو مخلوقاتو باندی

شاملي دي خو دا صفات همغسې چه په کامل دول (طريقه) په انسانانو کښې دي په نورو مخلوقاتو کښې داسې له لرې نه ځرګندیږي (ښکاره کيږي) نو ځکه ئې د «رب» او د «ملک» او د نورو اضافت انسانانو ته وفرمايه. او هم په وسوسو کښې ابتلاء او اخته کيدل پرته (علاوه) له انسان ځخه د بل مخلوق په شان کښې نشته.

مِن شَرِّ الْوَسْوَاسِ ۙ الْخَنَّاسِ ﴿٤﴾

له شره د وسوسې اچوونکي تښتيدونکي (شيطان له ذکره د الله).

**تفسير:** شيطان سره له دې چه له سترګو ځخه پټ دی خلق غولوي او له لارې ځخه ئې وباسي تر څو چه انسان په غفلت کښې اوسيږي د هغه تسلط پر دوی باندې زياتيږي او کله چه ويښ او خپل الله تعالیٰ ئې په ياد شي نو هغه هم سم د لاسه تښتي.

الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ ﴿٥﴾ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ﴿٦﴾ ع

هغه (شيطان) چه وسوسې اچوي په سينو زړونو د خلقو کښې (چه دغه وسوسه اچوونکي) له پيريانو او انسانانو ځخه دي.

**تفسير:** شيطان هم په پيريانو کښې او هم په انسانانو کښې شته لکه چه په (١٤) رکوع ١١٢ آيت د «الانعام» د سورت ځمونږ دغه مقدس تفسير کښې داسې يو آيت لولو ﴿ وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيَاطِينَ الْإِنسِ وَالْجِنِّ يُوحِي بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ زُخْرُفَ الْقَوْلِ غُرُورًا ﴾
الله تعالیٰ مو دې د دې دواړو له شره وساتي. (تکمله) د دې دوو سورتونو په تفسير کښې عالمانو او حکيمانو ډيرې زياتې نکتې ويلي دي. د حافظ ابن قيم رحمة الله عليه ځمونږ د امام رازي رحمة الله عليه ځمونږ د بلخي ابن سبارح. د حضرت شاه عبد العزيز دهلوي محدث رحمة الله عليه اوږدو بيانونو ليکل دلته ممکن نه دي نو دلته يوائځې د مولانا محمد قاسم نانوتوي رحمة الله عليه د کلام خلاصه او د وينا لندون ليکل کيږي چه د «فوائد موضح الفرقان» د حسن خاتمې دپاره يو نيک فال ثابت شي.
دا يو فطري او عام دستور دی کله چه په کوم باغ کښې نوې ترکودې (شنيلې، نبات) ځمکه وچوي او له تخم ځخه د باندې ووځي نو باغوان يا بزګر د هغه تحفظ او پالنې او روزنې ته زياته توجه کوي او د هغه د لوئيدلو په نسبت ډير کوښښ او زيار (محنت) کوي چه هغه له ګردو (تولو) ارضي او سماوي آفاتو ځخه وساتي او تر څو د خپل کمال حد ته ونه رسيږي دی ئې ډير ربړ (تکليف) ايستلو او پام لرنې ته اړ (مجبور) دی. اوس په دې خبرې باندې غور کول په کار

دی چه د بوټی د ژوندون فناء کوونکی یا د هغه د ثمراتو له تمتع څخه د هغه د مالک محروم گرځوونکی کوم کوم آفتونه دی؟ چه د هغو د شر او مضمرت په لری کولو کښی تل باغوان یا بزګر ځیر وی او زیاته توجه او هوش ولری؟ چه خپل مساعی کامیاب کړی په ادنیٰ تأمل او لږ تصور او اټکل سره څرګندیږی (ښکاره کیږی) چه داسی آفتونه زیاتره په څلور ډوله (قسمه) پیښیږی چه د هغو په انسداد کښی باغوانان څلورو شیانو ته ډیر اړ (مجبور) دی.

اول: د بوټی خوړونکی چینجی او خزندی شرل چه د هغو له غاښو او خولو څخه نبات او ترکودی ته زیان رسیږی. یا د هغو په جبلت او خلقت کښی د هغه بوټو خوړل داخل دی.

دوهم: د ویالی یا د سین یا د کاریز یا د کوهی اوبه، هوا او د لمر تودوخی الغرض د ژوندون او د ترقی ګرد (ټول) اسباب د شتو او د هستی پوره انتظام دی.

دریم: په هغه باندی د واوری، ږلی، خاوری او د نورو شیانو لویدل چه د هغه د غریزی حرارت د احتقان باعث شی ځکه چه دغه د دی د ترقی او د نشو او نماء مانع ګرځی.

څلورم: د باغ د خاوند کوم دښمن یا حاسد د هغه کومه څانګه یا لښته او پانی او نور ونه شکوی یا هغه له بیخه ونه کاږی او ایسته ئی ونه غورځوی.

که باغوان د دی څلورو واړو خبرو پوره مکمل انتظام او بندوبست وکړی نو له الله تعالیٰ څخه هیله (امید) کیږی چه هغه نبات او ترکودی لوئی شی او په زړه پوری ګټی تری واخیستی شی او خلق د هغو د څانګو له میوو څخه پوره فائده واخلی. هم داسی مونږ ته ښائی چه د ارض او سماء له خالق څخه چه رب الفلق او خالق الحب والنوی دی او د نری د تکو شنو چمنونو حقیقی مالک او مربی دی د خپل وجود د شجر او د ایمان د شجر په نسبت له دی څلورو آفتونو څخه پناه وغواړو! بیا ښائی معلوم کړ شی لکه چه په اول قسم کښی د ترکودی خوړونکیو ساکښانو (ذی روحو) ضرر پیښول یواځی د هغوی د طبیعت له مقتضیاتو څخه وهم داسی د شر اضافت د «ماخلق» په لوری هم په دی خوا مشیر دی چه دا شر د هغه د مخلوق من حیث هو مخلوق له سببه ثابت دی او د هغو په زړونو کښی پرته (علاوه) د هغو د طبیعت او فطری دوامی بل کوم سبب ته دخل نشته لکه چه په منګور، لړم، سباع، بهائم، او نورو کښی لیدل کیږی.

د لړم لشه تومبل نه دی له هنده		دا ئی غوښت دی د وجود له سره هنده

نیش عقرب نه از پی کین است		مقتضای طبیعتش این است

وروسته له دی په دوهمه درجه کښی ئی له (غاسق اذا وقب) څخه د تعوذ تعلیم ورکړی دی چه له هغه څخه د مفسرینو په نزد یا شپه ده چه ښه توره تیاره شی یا د لمر دوبیدل وی یا د سپوږمی تندر او خوف دی له دوی څخه هره یوه معنی چه واخلئ دومره خبره خو یقینی ده چه په (غاسق) کښی د (شر) پیدا کیدل د هغی پر وقوب (د یو څیز تر شا پټیدو) باندی مبنی دی او ښکاره ده چه په وقوب (پټیدل) کښی پرته (علاوه) له دی څخه بله کومه خبره نشته چه له مونږ څخه د یوه څیز علاقه منقطعه شی او هغه فوائد او ګټی چه مونږ ته د هغی له ظهور څخه

حاصلیدی هغه به اوس په لاس نه راځی کله چه داسی دی نو دا تمثیل له اسبابو او مسبباتو څخه
پرته (علاوه) پر بل کوم شی باندی نه لګیږی ځکه چه د مسبب وجود د اسبابو او معداتو پر
وجود باندی موقوف دی تر څو د اسبابو علاقه له مسبباتو سره قائمه نه وی هیڅ کله کوم مسبب
په خپل وجود کښی بریالی (کامیاب) کیدی نشی او هم دا خبره ده چه مونږ د آفتونو په دوهم
قسم کښی ولیکل چه که اوبه، هوا، د لمر تودوخی او رڼا الغرض د ژوندون او ترقی ګرد (تول)
اسباب په زړه پوری منظم نه وی نو هغه ترکودی، نبات مړاوی او وچیږی.
وروسته له دی دریم تعوذ له (نفاثات فی العقد) څخه وکړ شو لکه چه وویل شول له هغه څخه
ساحرانه چاری مراد دی هغه کسان چه د سحر د وجود منونکی دی هغوی ئی منی چه د سحر له
اثره مسحور ته داسی امور پیښیږی چه له هغو څخه د طبیعت اصلی آثار مغلوب او مړه کیږی.
نو د سحر آفت هغه آفت ته ډیر ورته دی چه تر کودی ته له واوری او ږلی او د غریزی حرارت
د بندیدو په سبب پیدا کیږی او د هغه په نشوؤ نما او وده او لوئیدو کښی نقصان پیښوی هغه
الفاظ چه د (لبید بن اعصم) په قصه کښی شته ځینی ئی دا دی «فقام علیه الصلوٰة والسلام
کأنما انشط من عقال» له دی څخه ښکاریږی چه پر دوی باندی کوم شی مستولی شوی و او د
دوی د طبیعت مقتضیات ئی پټ کړی و چه د جبریل علیه السلام په تعوذ سره د الله تعالیٰ په امر
هغه عارضه ورکه شوه.
اوس له هغو افاتو څخه چه د ځان ساتنه ضروری ده فقط یوه آخری درجه پاتی شوه چه دښمن د
حسد او عداوت په سبب د باغ کومه څانګه یا لښته ماتوی یا بوتی له بیخه راوکاږی د باندی ئی
غورځوی یا ئی پانی یا ئی میوی شکوی د شر دا مرتبه ئی له (ومن شر حاسد) سره په ډیر
وضاحت راوښووله.
په دغه تقریر او وینا کښی که کوم لږ والی شته خو هغه یوائځی دا دی چه کله کله تخم ته پرته
(علاوه) له دی څلورو واړو آفتونو څخه کوم بل آفت پخوا له زرغونیدلو څخه ورپیښیږی بیا خو
ئی میړتون منځنی جوهر چه د تخم تومنه یا قلب یا د تخم «سویداء» ورته وایه شی او د
زرغونیدلو اصلی ماده وی خوری یا ئی د بلی کومی پیښی په سبب دننه برخه تکه توره واړوی یا
له منځه دوه پلی شی او د نشونما او د زرغونیدلو، لوئیدلو او د ودی قابلیت پکښی پاتی نشی
ښائی د دی لږتوب د تلافی دپاره په بل سورت کښی د (الوسواس الخناس) له شر څخه د
استعاذی تعلیم ورکړی شوی وی ولی (وسواس) د هغو فاسدو خطراتو نوم دی چه په سترګو نه
ښکاری بلکه په پته سره د ایمان په قوت کښی کندو او رخنه اچوی چه د هغه علاج پرته (علاوه)
د عالم الخفیات والسرائر څخه بل څوک نشی کولی خو کله چه د وسوسو مقابله له ایمان سره
وشی نو د وسواس د دفعی دپاره په هم دی صفاتو باندی د تمسک ضرورت دی چه د ایمان د
مبادی او مناقشی له اصولو څخه شمیرلی کیږی او له هغو څخه ایمان ته مدد رسی. اوس له تجربو
څخه راښکاره شوه چه له ګردو (تولو) څخه اول د ایمان انقیاد او تسلیم نشو او نما د حق
تعالیٰ د بی انتهاء تربیتونو او بی غایاتو انعاماتو د لیدلو څخه حاصلیږی نو کله چه مونږ د هغه

په مطلقه ربوبیت باندی نظر واچوو نو ځمونږ ذهن دی خوا ته منتقل کیږی چه هغه ذات رب العزت مالک الملک او مطلق شهنشاه هم دی ځکه چه د تربیت مطلقه معنی د هر راز (قسم) جسمانی او روحانی ضروریاتو رسونه دی او دا کار پرته (علاوه) له هسی یو منبع الکمالات ذات څخه له بل چا څخه کیدونکی نه دی چه هغه د هر راز (قسم) ضروریاتو او شیانو مالک او د دنیا هیڅ یو شی د هغه د اقتدار له فیضه د باندی نه دی هم داسی ذات ته مونږ مالک الملک او مطلق شهنشاه ویلی شو او بیشکه د هغه لوی شان داسی کیدی شی چه (لمن الملک الیوم لله الواحد القهار) ګواکی مالکیت یا ملکیت د داسی یو قوت نوم دی چه د هغه د فعلیت مرتبه په (ربوبیت) سره موسومیږی ځکه چه د ربوبیت لند تعریف د منفعت اعطاء او د مضرت دفع دی او پر دغو دواړو باندی قدرت لرل دی دا د مطلق شهنشاه منصب دی که لږ له دی څخه وړاندی ته ځیر شو نو د دی علی الاطلاق باچا د معبودیت (الوهیت) سراغ او پته هم مونده کیږی ځکه چه معبود هغه ته وایه شی چه د هغه د حکم په مقابل کښی هر څوک غاړه کیږدی او د ده د امر په مقابل کښی د بل حکم هیڅ خیال او پروا ونه کړه شی نو ښکاره ده چه دا د بندګی انقیاد پرته (علاوه) د کامله محبت او مطلقه حکومت په مخامخ کښی د بل چا په مخ کښی نه کاوه او نه ئی وړ (لائق) دی د دی دواړو شیانو اصلی مستحق پرته (علاوه) له الله تعالیٰ څخه بل څوک نه دی ځکه د معبودیت او الوهیت صفت هم یوائځی هغه (وحده لا شریک له) ته ثابت شو. وایئ ﴿ قُلْ أَتَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا ﴾

لنده ئی دا هغه کوم صفت چه د ایمان مبدأ ګرځی ربوبیت دی وروسته له هغه د ملکیت صفت دی او له تولو څخه وروسته د الوهیت مرتبه ده نو هر هغه څوک چه خپل ایمان د شیطانی وسوسو د مضرت د ساتلو په نیت د حق تعالیٰ دربار ته حاضریږی چه هلته خپله چاره جوئی وکړی نو ښائی هم داسی درجه په درجه له یو مقام څخه بل مقام ته لاړ شی لکه چه پخپله پروردګار په هم دی ترتیب سره د خپلی ستاینی (صفت) په ﴿ بِرَبِّ النَّاسِ ، مَلِكِ النَّاسِ ، إِلَٰهِ النَّاسِ ﴾ سره په سورت «الناس» کښی بیان فرمایلی دی او عجیبه خبره دا ده لکه چه د مستعاذ به له خوا دلته دری صفتونه بی د عاطفی له واو څخه او بی د جاری د «ب» له اعادی څخه مذکور دی د مستعاذ منه له جانبه هم دری شیان په نظر راځی چه پرله پسی صفت په صفت بیان کړی شوی دی. په دی باندی به داسی پوهیږئ چه د «وسواس» د وصفیت په مقابل کښی واخلی ځکه چه حقیقی مستعاذ به «اله الناس» دی او «ملک» او «رب» په هغه پوری د رسیدلو عنوان تاکلی (مقرر کړی) شوی دی هم داسی د مستعاذ عنه حقیقت هم دا «وسواس» دی چه د هغه د صفت په مخ کښی «خناس» راوړی شوی دی له «خناس» څخه دا مراد دی چه شیطان د غفلت په حال د انسان په زړه کښی وسوسه اچوی او کله چه څوک ویښ شی نو د غلو په شان د هغوی پسی بیرته ځان راکاږی د داسی غلو او بدو چارو نیول او د هغوی د ربړ (تکلیف)، تعدی لاس پری کول او د رعیتونو د آرامی او د هوسائی (راحت) چاری ورغوندول د سلاطینو او د تولواکانو لویه فریضه او مهمه وظیفه ده ځکه مناسب به وی چه د دی صفت په مقابل کښی

(ملک الناس) کیښود شي او (الذی یوسوس فی صدور الناس) چه د (خناس) د فعلیت درجه ده او مونږ هغی ته د غله د نقب وهلو سره تشبیه ورکولی شو هغه د (رب الناس) په مقابله کښې دی چه په پخوانی تحریر کښې د (ملک الناس) د فعلیت مرتبه ده وشمیرلی شي بیا دی وکتلی شي چه د مستعاذ منه او مستعاذ به په منځ کښې څومره نام او کامل تقابل ښکاریږی والله تعالیٰ اعلم باسرار کلامه!

**اوله تنبیه :** له ډیرو اصحابو لکه حضرت بی بی عائشه الصدیقه، حضرت ابن عباس، حضرت زید بن ارقم رضی الله تعالیٰ عنهم څخه روایت دی چه پر حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم ځینو یهودانو سحر جادو او کودی کری وی چه د هغو له اثره د هغوی په مبارک بدن باندی یو راز (قسم) مرض لاحق شو. په دی منځ کښې کله داسی هم پیښیده چه دوی به ځینی دنیوی چاری کولی خو بیا ئی داسی ګنل چه هغه ئی نه دی کری یا هغه دنیوی کار چه کری ئی نه وی داسی ئی باله چه کری ئی دی د دی پیښی د علاج دپاره الله تعالیٰ دا دوه سورتونه رانازل کرل چه د هغه له تأثره د الله تعالیٰ په اذن هغه مرض زائل شو واضح دی وی چه دا واقعه په صحیحینو کښې شته چه په هغه باندی تر اوسه پوری هیڅ یوه محدث جرح نه ده کری او داسی کیفیت د رسالت له منصبه سره قطعاً منافی نه دی لکه چه دوی کله فارغ او ځینی اوقات غشی پر دوی باندی طاری کیده یا څو ځلی په لمانځه کښې سهو شوی دی. دوی فرمایلی دی **(انما انا بشر انسي كما تنسون فاذا نسيت فذكروني:** بیشکه چه زه یو سری یم لکه تاسی او هیروم شیان لکه چه تاسی ئی هیروئ کله چه ځما څخه کوم شی هیر شی نو هغه را په یاد کرئ!) ښائی چه ځینی ناپوهان ووائی چه «که پر هغوی باندی غشی طاری کیده نو د هغه پر وحی او نورو خبرو باندی څنګه یقین وکری شی؟ ښائی چه په هغه هم سهو، نسیان هیره او نور شیان ګډ وی» اګر که د هغی سهوی او نسیان څخه دا نه لازمیږی چه د الله تعالیٰ د وحی او د تبلیغ په فرائضو کښې شکوک او شبهات پیدا شی او له دومره یوی خبری څخه چه کله کله به دوی د یوه کری کار په نسبت فرمایل چه نه ئی دی کری یا یو ناشوی کار به ئی داسی ګانه چه کری ئی دی څرنګه به دا لازمیږی چه د دوی په ځینو تعلیماتو او د بعثت د فرائضو په قوت او اعتبار کښې څه شک او شبهه پیدا شی.

په یاد ئی ولرئ چه سهو، نسیان، مرض غشی او نور انسانی عوارض د بشریت له خواصو څخه دی کله چه انبیاء علیهم السلام بشر دی نو د داسی خواصو موندل د هغو په وجود کښې د هغوی له مرتبی څخه هیڅ شی نه لږوی هو! دا ضروری ده کله چه د یوه سری په نسبت په قاطعه ؤ براهینو او نیره ؤ دلائلو ثابت شی چه هغه په رښتیا سره د الله تعالیٰ یقینی استاځی وی نو د دی خبری منل هم په کار دی چه د الله تعالیٰ د هغه د عصمت تکفل کری دی او همغه ئی د خپلی وحی د وریادولو او پوهولو او وررسولو ذمه وار ګرځولی دی نو څرنګه ممکن کیدی شی چه د ده د دعوت د فرائضو او د تبلیغ په انجام کښې کوم بل طاقت یا قوت خلل واچوی. نفس وی که شیطان ناروغی وی که جادو لنده ئی دا چه هیڅ یو شی د نبوت او پیغمبری په چارو او

د بعثت په لوړو (اوچتو) مقاصدو پورې اړه (تعلق) لرې د سحر او جادو لږ څه اثر لویدلی وی او نه کودی او نه جادو د نبوت او د بعثت په فرائضو کښې څه خلل او دیل اچولی شي.

**دوهمه تنبیه :** د معوذتینو په قرآنیت باندی د ګردو (تولو) اصحابو اجماع ده او د هغوی له زمانی څخه تر اوسه پورې په تواتر سره ثابته شوی ده. یوائځی د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه څخه نقل کاوه شي چه دوی به دا دوه سورتونه په خپل مصحف کښې نه لیکل. خو دا خبره دی ښکاره وی چه ابن مسعود رضی الله عنه هم د دی دوو سورتونو په قرآنیت کښې هیڅ شک او شبهه نه لرله او دا ئی منل چه دا د پاک الله کلام دی او یقیناً له آسمانه رانازل شوی دی خو د دی د نزول اصلی مقصد رقیه او علاج دی دا نه دی رامعلوم چه د تلاوت دپاره نازل شوی دی؟ که نه؟ نو ځکه د دی دوو سورتونو لیکل به هغه مصحف کښې چه د تلاوت دپاره وی له احتیاطه چپ (خلاف) دی **«انه کان لا یعد المعوذتین من القرآن وکان لا یکتبهما فی مصحفه ویقول انهما منزلتان من السماء وهما من کلام رب العٰلمین ولکن النبی علیه الصلوٰة والسلام کان یرقی و یعوذ بهما فاشتبه علیه انهما من القرآن أولیستامنه فلم یکتبهما فی المصحف»** (د روح البیان د څلورم جلد ۷۲۳ مخ وګوری!) قاضی ابوبکر باقلانی لیکی **«لم ینکر ابن مسعود رضی الله عنه کونهما من القرآن وانما انکر اثباتهما فی المصحف فانه کان یری ان لا یکتب فی المصحف شیئا الا ان کان النبی صلی الله علیه وسلم اذن فی کتابته فیه وکان لم یبلغه الإذن»** (د فتح الباری د اتم جلد ۵۷۱ مخ وګورئ!) حافظ یوه بل عالم د الفاظو داسی نقل کړی دی **«لم یکن اختلاف ابن مسعود رضی الله عنه مع غیره فی قرآنیتهما وانما کان فی صفة من صفاتهما»** د (فتح الباری د پنځم جلد ۵۷۱ مخ وګورئ!) په هر حال د ابن مسعود رضی الله عنه دا رأی شخصی او انفرادی وه او لکه چه (بزار) تصریح کړی ده هیڅ یو له اصحابو څخه له ده سره متفق نه ؤ او دیر امکان لری چه وروسته له دی څخه چه هغوی ته په تواتر سره دا ورښکاره شوی وی چه معوذتین هم له متلوء قرآن څخه دی نو هغوی به هم په هغه خپل ړومبنی فکر باندی پاتی نه وی برسیره په دی د دوی انفرادی رأی هم له خبر واحد څخه معلومیږی چه د قرآن د تواتر په مقابل کښې د اوریدلو وړ (لائق) نه دی. په شرح مواقف کښې لیکلی شوی دی **«ان اختلاف الصحابة فی بعض سور القرآن مروی الآحاد المفیدة للظن و مجموع القرآن منقول بالتواتر المفید للیقین. الذی یضمحل الظن فی مقابلته فتلک الآحاد مما لا یلتفت الیه ثم ان سلمنا اختلافهم فیما ذکر قلنا انهم لم یختلفوا فی نزوله علی النبی صلی الله علیه وسلم ولا فی بلوغه فی البلاغة حد الإعجاز بل فی مجرد کونه من القرآن وذلک لا یضر فیما نحن بصدده الخ»** حافظ ابن حجر رحمة الله علیه وائی **«واجب باحتمال انه کان متواتراً فی عصر ابن مسعود لکن لم یتواتر عند ابن مسعود فانحلت العقدة بعون الله تعالی الخ»** او صاحب المعانی لیکی «ولعل ابن مسعود رضی الله عنه رجع عن ذلک الخ».

یا الله العٰلمین! ستا شکر په کومه ژبه اداء کړو چه تا مونږ ته داسی خالص توفیق او تیسیر راوبښه چه نن مو دا مهتم بالشان خدمت پای (آخر) ته ورساوه! مونږ د خپل دغه خلوصیت او عقیدت ؟ ثمره چه یواځی ستا په فضل او اعانت سره پای (آخر) ته رسیدلی دی ستا د قدسیت لوی دربار ته په ډیر عجز او نیاز دروړاندی کوو امید او هیله (طمعه) لرو چه پخپل فضل او کرم قبول ئی کړی! الٰهی مونږ معترف یو چه د دی لوی خدمت په پای (اخر) ته رسولو کښی مو حق د اخلاص او د خدمت نه دی اداء کړی خو کله چه ستا رحمت او رأفت سیآت په حسناتو سره بدلولی شی تاته د یوه حسنه صورت بدلول په حسنه حقیقت سره کومه لویه خبره نه ده! ستا مهربانی او لورینی (بخشش) ته هم داسی هیله (امید) ده چه ته د خپلی نکتی پالنی له پلوه دا ځمونږ عمل تل مقبول او ژوندی ولری! او د ده د ښو ثمراتو څخه مونږ په دواړو دارینو کښی متمتع وګرځوی!

یا الله العٰلمین! ته د خپل پاک قرآن له برکته مونږ او ځمونږ والدین او ځمونږ استاذان او ځمونږ شیوخ او ځمونږ اقارب او احباب او هغه کسان چه په دی ښه کار کښی محرک، داعی، ممد، معاون شوی دی یا هغه پوهان چه دی عظیم الشان کار کښی ئی رفاقت او اعانت راسره کړی دی. ګرد (تول) وبښی! او د دنیا او آخرت له بلاؤ څخه ئی مأمون او مصئون ولری! او حضرت شیخ الهند محمود الحسن دیوبندی رحمة الله علیه او حضرت عمدة المفسرین شبیر احمد عثمانی مدظله سره مو په جنت الفردوس کښی یو ځای کړی!.

---

**تمت الترجمة والتفسیر فلله الحمد اولا و آخراً و ظاهراً و باطنا، ربنا لا تؤاخذنا ان نسینا او اخطأنا ربنا تقبل منا انک انت السمیع العلیم اللّٰهم آنس وحشتی فی قبری اللّٰهم ارحمنی بالقرآن العظیم واجعله لی اماماً و نورا وهدی ورحمة اللّٰهم ذکرنی منه ما نسیت وعلمنی منه ما جهلت وارزقنی تلاوته آناء اللیل واطراف النهار واجعله لی حجة یا رب العٰلمین!**

د قرآن پیل (شروع) په باء، ختم ئی په سین شو ولی؟ ځکه رهبر مو په دارینو کښی قرآن دی بس!.

# دقرآن کریم دوقوفو رموز (نښې)

- دهرے ژبے ویونکی چه کله خبرې کوی نوچیرته دریږی اوچیرته نه دریږی، کله ډیراوکله لږ ایساریږی اوپه دی ودریدو اُونه دریدوکښې دخبرې پوره بیان اومفهوم کښې ډیرلوی دخل دی .

دقرآن کریم معجز کلام اوعبارت هم دوینا په ډول واقع دی. له دغه وجې نه أهل علمو د دریدوأونه درید ونښے (علائم) مقررکړی دی چه هغی ته دقرآن مجید دوقوفو رموز وائی .

ضروری خبره ده چه ددی عظیم کتاب لوستونکی ددی رموزو پوره خیال وساتی أوهغه رموز دادی.

○ - چیرته چه خبره پوره شی هلته کښې وړه غوندی دائره وی ، داپه حقیقت کښې غونډه (ت) ده چه د(ة)په هیئت کښې لیکلی شی اوداد وقف تام علامه ده په دی باندی دریدل پکاردی ، اوس ة خونه شی لیکلی مګرووړه غوندی حلقه اچولی شی دی ته آیت وائی .

م - داد وقف لازم علامه ده په دی باندی هرومرو (خامخا) دریدل پکاردی أوکه چیری څوک ونه دریدنو احتمال

لري چه دخبري مطلب به بل څه شي ددي په پښتو ژبه کښې داسې مثال پوهيدل پکارده چه چاته و ويلي شي ،
(پاسه ـ مه کينه) چه پکښې د پاسيدو امراوله کيناستو نهې ده نو په ـ پاسه ـ باندې دريدل لازم دي اوکه چيرې متکلم ونه دريدنو مخاطب به داسې وګڼي چه ( پاسه مه ـ کينه) چه په هغه کښې به د ودريدو نه نهې او دکيناستود امراحتمال کيږي اويقيناً دا به د قائل د مطلب خلاف وي.

ط ـ داد وقف مطلق علامه ده په دې باندې دريدل پکاردي دا علامه هلته وي چه کوم ځاې مطلب نه پوره کيږي او وړاندې مزيده هم څه ويناکول غواړي .

ج ـ داد جائز وقف علامه ده دلته کښې دريدل غوره اونه دريدل جائز دي .

ز ـ داد مجوّز وقف علامه ده دلته نه دريدل غوره دي .

ص ـ داد مرخّص وقف علامه ده دلته پيوست ( يوځاي ) لوستل پکاردي ليکن که چيرې څوک ستړي شي او ودريږي نوهغه ته اجازه شته ،
معلومه شوه چه په(ص)پيوست لوستل د(ز)په نسبت ترجيح لري

صلے ـ داد الْوَصْلُ أَوْلَىٰ (يعنې وصل غوره) اختصار دي دلته پيوست لوستل غوره دي .

ق ـ داد قِيلَ عليه الْوَقف خلاصه ده دلته دريدل پکارنه دی.

صل ـ داد قَدْ يُوْصَلُ علامه ده دلته کله ودريدی شی اوکله نه
لیکن دریدل غوره دی.

قف ـ داد قِفْ لفظ دی چه معنی ئ ده ودریگه اودا علامه
هلته استعمالیگی چه دلوستونکی دپیوستی وینا احتمال وی.

س یا سکته ـ داد سکتے علامه ده دلته لگ وخت دریدل پکاردی
خوچه تنفّس باقی وی (یعنی ساماته نه شی).

وقفه ـ داد اوگدی سکتے علامه ده دلته دسکتے په نسبت ډیر
دریدل پکاردی لیکن چه تنفّس جاري وی (یعنی ساماته نه شی)
په سکته او وقفه کښی دافرق دی چه سکته کښی لگ وخت
او په وقفه کښی ډیر وخت ودریدی شی.

لا ـ دلا معنی چه نیشته داعلامه کله خود آیت پورته وی او
کله دعبارت دننه که دعبارت دننه وی نو دریدل بالکل
نه دی پکار اوکه د آیت پورته وی نوبیا اختلاف دی.
دځینو په نزد دریدل او دبعضو په نزد نه دریدل روادی
خوکه څوک ودرید یاونه درید په دی سره مطلب کښی څه
خلل نه واقع کیگی وقف هلته نه دی پکار چه د عبارت دننه
لیکلی وی.

ك ـ دادکَذٰلك علامه ده یعنی چه کوم رمز (نښه) دی ك نه

وړاندې ليکلې شوې ده دلته کښې دې همغه وکړلې شي.

۵ ـ دا دې علامه ده چه په دې ځاى دغير کوفيينو په نزد آيت ده که چا وقف وکړ نو دا عادې (دوباره ويلو) ضرورت نيشته.

ؤ ـ داد دريو ټکو (نقطو) وقف نژدې نژدې راځي دې ته معانقه ويلې شي کله خوددې اختصار په مع سره ليکلې شي. ددې مطلب دادہ چه دا دواړه وقفونه لکه چه معانقه کوې او حکم ئې داده چه په دې دواړو وکښې په يو باندې دريدل پکار دې په بل نه او په وقف کښې درموز و (نښو) قوت او ضعف ملحوظ ساتل پکار دې.

# د دویم جلد فهرس

## له (١٦) تر (٣٠) پارې

## دسورة الكهف (٧٥) آيت له ابتداء تر پای (آخر) سورة الناس


| دسورت شماره | دسورت نامه | دصفحې رقم | دپارې شماره |
|---|---|---|---|
| ١٩ | سُوْرَةُ مَرْيَم | ٢٠ | ١٦ |
| ٢٠ | سُوْرَةُ طٰهٰ | ٦٨ | ١٦ |
| ٢١ | سُوْرَةُ الْأَنْبِيَآء | ١٣٠ | ١٧ |
| ٢٢ | سُوْرَةُ الْحَجّ | ١٨٦ | ١٧ |
| ٢٣ | سُوْرَةُ الْمُؤْمِنُوْن | ٢٣٨ | ١٨ |
| ٢٤ | سُوْرَةُ النُّوْر | ٢٨٤ | ١٨ |
| ٢٥ | سُوْرَةُ الْفُرْقَان | ٣٤٢ | ١٨ - ١٩ |
| ٢٦ | سُوْرَةُ الشُّعَرَآء | ٣٨٠ | ١٩ |
| ٢٧ | سُوْرَةُ النَّمْل | ٤٢٩ | ١٩ - ٢٠ |
| ٢٨ | سُوْرَةُ الْقَصَص | ٤٨٠ | ٢٠ |
| ٢٩ | سُوْرَةُ الْعَنْكَبُوْت | ٥٣٩ | ٢٠ - ٢١ |
| ٣٠ | سُوْرَةُ الرُّوْم | ٥٨٠ | ٢١ |
| ٣١ | سُوْرَةُ لُقْمَان | ٦١٤ | ٢١ |
| ٣٢ | سُوْرَةُ السَّجْدَة | ٦٣٧ | ٢١ |
| ٣٣ | سُوْرَةُ الْأَحْزَاب | ٦٥٢ | ٢١ - ٢٢ |
| ٣٤ | سُوْرَةُ سَبَإٍ | ٧١٤ | ٢٢ |
| ٣٥ | سُوْرَةُ فَاطِر | ٧٥٣ | ٢٢ |
| ٣٦ | سُوْرَةُ يٰسٓ | ٧٨١ | ٢٢ - ٢٣ |
| ٣٧ | سُوْرَةُ الصّٰٓفّٰت | ٨١٦ | ٢٣ |
| ٣٨ | سُوْرَةُ صٓ | ٨٥٨ | ٢٣ |
| ٣٩ | سُوْرَةُ الزُّمَر | ٨٩٣ | ٢٣ - ٢٤ |
| ٤٠ | سُوْرَةُ الْمُؤْمِن | ٩٣٨ | ٢٤ |
| ٤١ | سُوْرَةُ حٰمٓ السَّجْدَة | ٩٨٥ | ٢٤ - ٢٥ |
| ٤٢ | سُوْرَةُ الشُّوْرٰى | ١٠٢١ | ٢٥ |
| ٤٣ | سُوْرَةُ الزُّخْرُف | ١٠٥٦ | ٢٥ |
| ٤٤ | سُوْرَةُ الدُّخَان | ١٠٩٠ | ٢٥ |
| ٤٥ | سُوْرَةُ الْجَاثِيَة | ١١٠٥ | ٢٥ |
| ٤٦ | سُوْرَةُ الْأَحْقَاف | ١١٢٤ | ٢٦ |
| ٤٧ | سُوْرَةُ مُحَمَّد | ١١٥٠ | ٢٦ |
| ٤٨ | سُوْرَةُ الْفَتْح | ١١٧٤ | ٢٦ |
| ٤٩ | سُوْرَةُ الْحُجُرَات | ١٢٠٣ | ٢٦ |
| ٥٠ | سُوْرَةُ قٓ | ١٢١٩ | ٢٦ |
| ٥١ | سُوْرَةُ الذّٰرِيٰت | ١٢٣٥ | ٢٦ - ٢٧ |
| ٥٢ | سُوْرَةُ الطُّوْر | ١٢٥٢ | ٢٧ |
| ٥٣ | سُوْرَةُ النَّجْم | ١٢٦٦ | ٢٧ |
| ٥٤ | سُوْرَةُ الْقَمَر | ١٢٨٥ | ٢٧ |
| ٥٥ | سُوْرَةُ الرَّحْمٰن | ١٣٠١ | ٢٧ |
| ٥٦ | سُوْرَةُ الْوَاقِعَة | ١٣١٨ | ٢٧ |
| ٥٧ | سُوْرَةُ الْحَدِيْد | ١٣٣٧ | ٢٧ |
| ٥٨ | سُوْرَةُ الْمُجَادَلَة | ١٣٦٢ | ٢٨ |
| ٥٩ | سُوْرَةُ الْحَشْر | ١٣٨١ | ٢٨ |
| ٦٠ | سُوْرَةُ الْمُمْتَحَنَة | ١٤٠٢ | ٢٨ |
| ٦١ | سُوْرَةُ الصَّفّ | ١٤١٦ | ٢٨ |
| ٦٢ | سُوْرَةُ الْجُمُعَة | ١٤٢٦ | ٢٨ |
| ٦٣ | سُوْرَةُ الْمُنَافِقُوْن | ١٤٣٥ | ٢٨ |
| ٦٤ | سُوْرَةُ التَّغَابُن | ١٤٤٣ | ٢٨ |
| ٦٥ | سُوْرَةُ الطَّلَاق | ١٤٥٣ | ٢٨ |
| ٦٦ | سُوْرَةُ التَّحْرِيْم | ١٤٦٧ | ٢٨ |

# د دویم جلد فهرس

## له(١٦) تر (٣٠) پارے

## دسورة الكهف (٧٥)آيت له ابتداء تر پاى (آخر) سورة الناس



| دسورت شماره | دسورت نامه | دصفحې رقم | دپارې شماره | دسورت شماره | دسورت نامه | دصفحې رقم | دپارې شماره |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٦٧ | سُورَةُ المُلك | ١٤٨٠ | ٢٩ | ٩١ | سُورَةُ الشَّمس | ١٧١٤ | ٣٠ |
| ٦٨ | سُورَةُ القَلَم | ١٤٩٤ | ٢٩ | ٩٢ | سُورَةُ اللَّيل | ١٧١٩ | ٣٠ |
| ٦٩ | سُورَةُ الحَاقَّة | ١٥١٠ | ٢٩ | ٩٣ | سُورَةُ الضُّحٰى | ١٧٢٣ | ٣٠ |
| ٧٠ | سُورَةُ المَعَارِج | ١٥٢٣ | ٢٩ | ٩٤ | سُورَةُ الشَّرح | ١٧٢٧ | ٣٠ |
| ٧١ | سُورَةُ نُوح | ١٥٣٤ | ٢٩ | ٩٥ | سُورَةُ التِّين | ١٧٣٠ | ٣٠ |
| ٧٢ | سُورَةُ الجِنّ | ١٥٤٥ | ٢٩ | ٩٦ | سُورَةُ العَلَق | ١٧٣٣ | ٣٠ |
| ٧٣ | سُورَةُ المُزَّمِّل | ١٥٥٨ | ٢٩ | ٩٧ | سُورَةُ القَدر | ١٧٣٩ | ٣٠ |
| ٧٤ | سُورَةُ المُدَّثِّر | ١٥٦٩ | ٢٩ | ٩٨ | سُورَةُ البَيِّنَة | ١٧٤١ | ٣٠ |
| ٧٥ | سُورَةُ القِيَامَة | ١٥٨٤ | ٢٩ | ٩٩ | سُورَةُ الزِّلزَال | ١٧٤٥ | ٣٠ |
| ٧٦ | سُورَةُ الدَّهر | ١٥٩٥ | ٢٩ | ١٠٠ | سُورَةُ العَادِيَات | ١٧٤٨ | ٣٠ |
| ٧٧ | سُورَةُ المُرسَلَات | ١٦٠٧ | ٢٩ | ١٠١ | سُورَةُ القَارِعَة | ١٧٥١ | ٣٠ |
| ٧٨ | سُورَةُ النَّبَإ | ١٦٢١ | ٣٠ | ١٠٢ | سُورَةُ التَّكَاثُر | ١٧٥٤ | ٣٠ |
| ٧٩ | سُورَةُ النَّازِعَات | ١٦٣١ | ٣٠ | ١٠٣ | سُورَةُ العَصر | ١٧٥٦ | ٣٠ |
| ٨٠ | سُورَةُ عَبَس | ١٦٤٢ | ٣٠ | ١٠٤ | سُورَةُ الهُمَزَة | ١٧٥٨ | ٣٠ |
| ٨١ | سُورَةُ التَّكوِير | ١٦٥٠ | ٣٠ | ١٠٥ | سُورَةُ الفِيل | ١٧٦١ | ٣٠ |
| ٨٢ | سُورَةُ الإنفِطَار | ١٦٥٨ | ٣٠ | ١٠٦ | سُورَةُ قُرَيش | ١٧٦٣ | ٣٠ |
| ٨٣ | سُورَةُ المُطَفِّفِين | ١٦٦٣ | ٣٠ | ١٠٧ | سُورَةُ المَاعُون | ١٧٦٥ | ٣٠ |
| ٨٤ | سُورَةُ الإنشِقَاق | ١٦٧١ | ٣٠ | ١٠٨ | سُورَةُ الكَوثَر | ١٧٦٧ | ٣٠ |
| ٨٥ | سُورَةُ البُرُوج | ١٦٧٨ | ٣٠ | ١٠٩ | سُورَةُ الكَافِرُون | ١٧٦٩ | ٣٠ |
| ٨٦ | سُورَةُ الطَّارِق | ١٦٨٥ | ٣٠ | ١١٠ | سُورَةُ النَّصر | ١٧٧٣ | ٣٠ |
| ٨٧ | سُورَةُ الأعلٰى | ١٦٨٨ | ٣٠ | ١١١ | سُورَةُ تَبَّت | ١٧٧٤ | ٣٠ |
| ٨٨ | سُورَةُ الغَاشِيَة | ١٦٩٤ | ٣٠ | ١١٢ | سُورَةُ الإخلَاص | ١٧٧٧ | ٣٠ |
| ٨٩ | سُورَةُ الفَجر | ١٧٠٠ | ٣٠ | ١١٣ | سُورَةُ الفَلَق | ١٧٧٩ | ٣٠ |
| ٩٠ | سُورَةُ البَلَد | ١٧٠٩ | ٣٠ | ١١٤ | سُورَةُ النَّاس | ١٧٨١ | ٣٠ |

بحمد الله تعالىٰ وتوفيقه

# انتهى المجلّد الثّاني - الأخير -

مِنَ الجزءِ (١٦) إلىٰ (٣٠)

مِنْ بدايةِ الآيةِ (٧٥) مِنْ سورةِ الكهفِ إلىٰ آخرِ سورةِ النّاسِ

---

دخدای تعالیٰ په مرسته (مدد) اوتوفيق دويم جلد (آخری)

پای (آخر) ته ورسيد له (١٦) تر (٣٠) پارے

دسورة الكهف (٧٥) آيت له ابتداء تر پای (آخر)

سورة الناس

بعون الله وتوفيقه
تم طبع هذا المصحف الشريف
وترجمة معانيه وتفسيره في مجمع
خادم الحرمين الشريفين الملك فهد لطباعة
المصحف الشريف بالمدينة المنورة بإشراف
وزارة الحج والأوقاف في المملكة العربية
السعودية عام ١٤١٤هـ

حقوق الطبع محفوظة

لمجمع خادم الحرمين الشريفين الملك فهد
لطباعة المصحف الشريف

ص.ب ٣٥٦١ - المدينة المنورة

دلوی الله په مرسته
او توفیق سره د قرآن کریم ددے
ترجمے او تفسیر چاپ د حرمینو
شریفینو د خادم پادشاه فهد د قرآن
کریم په چاپ خانه کښې د سعودی
عرب د حج او اوقافو د وزارت
داشراف او مشرئ تر لاندے
چاپ ته اورسید
کال ١٤١٤م

مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف
المراقبة النهائية
رقم ١١٠٩٩

د چاپ حقوق محفوظ دی
په حق کښې د حرمينو شريفينو د خادم پادشاه فهد
د قرآن کريم د چاپ خانے (ص ب ٣٥٦١) مدينه منوره

(٠١) (٤) (٢٢٥/٤٠٠٠ )

د

# قرآن کریم

ترجمه او تفسیر
په پښتو ژبه کښې

دویم جلد